فتاویٰ دارالعلوم دیوبند

مدلّل و مکمّل

پښتو

۱



دموجوده وخت په دار الافتآء کې دمروجه نسخو مطابق، دنوی تخریج سره اعلٰی کمپوټری چاپ

فتاوٰی دار العلوم دیوبند

مُدلّل و مکمّل

په آسانه او روانه کندهاری پښتو

لومړی جلد ❶

كتاب الطّهارة

تالیف: مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی رحمه الله
((ددار العلوم دیوبند اول مفتی))

په لار ښوونه د: حکیم الاسلام حضرت مولانا قاری محمدطیّب صاحب رحمه الله (مهتمم دارالعلوم دیوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفیر الدین صاحب، رفیقِ شعبۂ ترتیبِ فتاوٰی دار العلوم دیوبند

اضافه تخریج جدید: مولانا مفتی محمد صالح، رفیقِ دارالافتآء جامعة اسلامیه، بنوری ټاؤن کراچی

ژباړه ، تعلیق او تحقیق: مولانا الحافظ محمّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانیه، پشاور

زیرِ نګراني: شیخ الحدیث حضرت مولانا الشیخ عبد القادر النهر کاریزي (دامت بر کاتهم العالیة)

مکتبهٔ حبیبیه

کاسی روډ، کوئټه ☎: 0812662448

al-ilmcorp@hotmail.com

لومړی چاپ

۱۴۲۹ شعبان \ اګست 2008

Maktabah Habibiyah	مکتبه حبيبيه
Publishing Organization	خپروونکی اداره
AL – ILM Computers	العلم کمپيوټرز
Composing Organization	کمپوزنګ اداره

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارګ بازار کندهار ، افغانستان ، ګرځنده تليفون

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجد نور ، کوئټه ، تليفون شميره

AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپيوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تليفون شميره

دفتاوی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست، جلد ❶

دلومړۍ حصې فهرست ختم سو

بسم الله الرحمن الرحيم

دلومړی ځل لپاره په خوږه پښتو ژبه باندي دحنفي فقه تر ټولو لوی او ستر پوهنغونډ

(دائرة المعارف ، موسوعة ، انسائيکلوپيډيا)

الحمد لله وكفى ، والصّلاة والسّلام على عباده الذين اصطفى ، خصوصاً على سيّد الأولين والآخرين، سيّدنا وحبيبنا محمّد ﷺ المصطفى والمجتبى، وعلى آله وأصحابه شموس الفضل وأعلام الهدى ، وعلى من استنّ بسنّتهم ونَهَجَ مَنْهَجَهُمْ ونَحا نَحْوَهُمْ وترسّم خُطَاهُمْ من الأئمة المجتهدين والفقهاء والمحدّثين والمفسّرين والعلمآء الربّانيين والشهدآء والمجاهدين . ([1]) أمّا بعد :

په افغانستان او پاکستان کي ددیني ، اسلامي ، علمي ، ادبي او فرهنګي کتابونو په پراخه کچه خپروونکي او نشروونکي ټولنه (**المكتبة الحبيبية**) ددرنو هېوادوالو ورونو لپاره دخپل چوپړ په درشل کي نن له يوې ستري کاميابۍ سره را وړاندي کيږي ، دا لومړی ځل نه دی چي دې اداري دليك او لوست دمينانو ، دعلم او پوهي دپتنګانو پام خپل ځان ته را اړولی دی ، تردې وړاندي هم دالله ﷻ په خاص کومك ، مرسته او پيرزويني سره توانيدلي ده ترځو دهېواد دپوهنيزي پراختيا دمينانو تنده په خپلو ځپاندو ځپو سره ماته کړي ، هو! دا ځل تر مخکي هغو ځکه ډيره خوشبينه ده چي په غيږ کي يې يو داسي اسلامي پوهنغونډ (دائرة المعارف) وزيږيد چي په تير دورکي يې مثال، او له نورو سره يې سيال نه ترسترګو کيږي ، چي ددار العلوم ديوبند (أزهر الهند) غوندي يوستر علمي مرکز لخوا په لسګونو کلونوکي دهند دلويي وچي داوسيدونکو مسلمانانو ورونو دورځني ژوند دبيلا بيلو اړخونو سره اړوند پوښتني او ځوابونه پکښي را نغښتل سويدی ، چي شمېر يې شاوخوا لس زره (١٠٠٠٠) پوښتنو او ځوابونو ته رسيږي ، او تحليل به يې مخ ته وړاندي کړل سي .

([1]) للأمانة العلميّة يلزم عليّ أن أقول : هذه الخطبة مأخوذة من الخطبة الشريفة لأستاذنا العلاّمة مولانا السيّد الدكتور الشيخ شير علي شاه المدني ، حفظه الله تعالى وأطال الله بقاءه بصحة وعافية ، أستاذ الحديث والتفسير بالجامعة الإسلامية الحقانية ، حرسها الله تعالى من كيد الأعداء ، الواقعة في بلدة آكوره ختك من مضافات إقليم سرحد ، ألقاها علينا في بدايته لدرس الأحاديث النبوية الشريفة في رحاب الجامعة المذكورة سنة ١٤٢٥ من الهجرة النبويّة على صاحبها ألف ألف سلام وتحية . محمّد أحمد الحقّاني الأفغاني

ددار العلوم دیوبند دا فتاوی مخکي هم له بیلا بیلو ادارو لخوا ژباړل سوي، خپره سوي او نشر سویده ، خو دا چي زموږ په دې نوي کمپیوټري چاپ کي کمو ټکو ته جدي پاملرنه سویده ستاسي ومخي ته ایږدو :

دفتاوی دارالعلوم دیوبند پښتو ددې چاپ ځانګړتیاوي او خصوصیتونه

☜ دکتاب اصلي عبارت چونکه په أردو ژبه کي وو ، او دهمدې أردو څخه څو څو ځله پښتو ته ژباړل سوی هم وو ، خو ددې چاپ دا امتیاز دی چي دخپل وس تر بریده مو پکښي پوره پوره هڅه کړیده تر څو دکتاب أردو عبارت په عام فهمه ، ساده او واضحه پښتو وړاندي کړو ، چي لله الحمد په دې موخه کي ۹۹ % په سلو کي بریالي سوی هم یو ، دکتاب دمطالعه کولو څخه یې عزتمند لوستونکي خپله هم اټکل کولی شي ، باید ووایم چي سوچه پښتو ویوني (لغات) له دې امله نه دي کارول شوی چي له یوې خوا دا کتاب چونکه دپښتو ژبي دزده کړي یا دپښتو میتودونو (نحو او صرف \ ګرامر) یو کتاب نه دی ، بلکه ددرنو لوستونکو یعني خواصو او عوامو لپاره دیني مسئلې او څیړني (تحقیقات) پکښي کښل سویدي تر څو پښتانه لوستونکي په خپله مورنۍ ژبه دخپل ستر امام حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله تعالی علیه دمذهب پر بنسټ ولاړ یو پراخ دیني اخځنځای (مأخذ) ولري ، او له بلې خوا دا لا هم چي ډیری دپښتو ژبي لوستونکي وګړي دپښتو ژبي دسوچه ویونو سره نا آشنا دي او کیدی شي چي دهمدغو سوچه پښتو لغاتو (ویونو) راوړل داصلي مطلب په فهمیدا کي خنډ وګرځي ، پر دې سربیره دا خنډ به له دې امله نور هم پیاوړی وي چي دپښتو ژبي لپاره یعني پښتو په پښتو ، یو جامع او هر اړخیز سیند (قاموس) هم په عمومي ډول شتون نه لري ، که څه هم چي دبعضو ملګرو له خولې کله نا کله اورو چي دپښتو لپاره په څو غټو ټوکونو (ضخیمو جلدونو) کي یو سیند (قاموس) شته خوداسي برېښي چي هغه هم اوس له نادرو او نایابو څخه شمېرل کیږي ، ولي چي چاپ او خپریدا ته یې کمه ځانګړې پاملرنه نه ده شوي ، وَاللهُ وَلِيُّ ٱلأُمُوْرِ كُلِّـهَا.

☜ ددې لپاره چي دکتاب دترتیب په لړۍ کي دعلمي تیروتنو کچه بیخي له مینځه ولاړه شي او یا هم لږ تر لږه ډیره ټیټه شي ، موږ په شمېرونکي (کمپیوټر) باندي

دفتاوٰی تر ليکلو وروسته دټايپ شوي متن بشپړه مقابله او موازنه له اصلي أردو فتاوی سره وکړه ، او دتفاوت او فرق په مهال مو دکتاب اصلي يعني أردو ترتيب ته لومړيتوب ورکړيدی.

☜ همدارنګه مو ډيری عربي عبارتونه دخپلو اصلي مآخذو سره پرتله کړيدی ، يعني کله چي مفتي صاحب حضرت مولانا عزير الرحمٰن رحمه الله دکتاب په صلب کي ، او يا هم مفتي صاحب محشِّي حضرت مولانا محمد ظفير الدين رحمه الله دکتاب په حاشيه کي عربي عبارتونه دځواب داستدلال لپاره له ګڼ شمېر کتابونو څخه لکه : الدر المختار ، ردالمحتار (شامي \ حاشية ابن عابدين) ، فتاوی عالمګيريه (هنديه) ، البحر الرائق ، فتح القدير ، الهداية ، فتاوی قاضيخان ... او نورو څخه را نقل کړی دی ، نو ددې کتابونو دعربي عبارتونو مقابله له همدغو کتابونو سره سويده او کم ځای چي پکښي توپير او تفاوت ځرګند سوی ، نو همدغو عربي کتابونو ته دلومړيتوب حق ورکول سويدی او عبارت مو ورسره موافق ليکلی دی ، ددې بيلګي هم دکتاب دعربي عبارتونو دمطالعه کولو او دأردو فتاوی سره دپرتله کولو څخه ځرګنديدی شي .

☜ ديادوني وړ ده چي لومړی دپوښتنو ځوابونه حضرت مولانا مفتي عزيز الرحمٰن صاحب رحمه الله په خپل قلم ليکلي ، دفتاوی دمطالعه کولو څخه دده دا عادت ډير روښانه برېښي چي دی په خپل جواب کي داستدلال لپاره عربي عبارتونه ډير کم وړاندي کوي ، او ترخپله وسه پوري يې هڅه کړيده چي جواب يې د (خَيْرُ الْكَلاَمِ مَا قَلَّ وَدَلَّ) ([1]) سره بالکل سمون وخوري ، له دې امله تاسي به ووينئ چي ډير ځلي دی رحمه الله دبشپړي پوښتني ځواب يوازي او يوازي په يوه توري لکه : هو ! ، نه ! ... او داسي نورو سره ورکوي .

وروسته بيا ددار العلوم ديوبند دښاغلي مهتمم او سرپرست حکيم الاسلام حضرت مولانا القاري محمد طيِّب صاحب رحمه الله ديوه فرمان سره سم مولانا مفتي محمد ظفير الدين رحمه الله په دې دنده وګمارل شو چي دنوي وخت دغوښتنو سره سم دمفتي عزيز الرحمٰن صاحب رحمه الله دورکړل سوو جوابونو علمي تخريج وکړي او دښاغلي مفتی صاحب دلنډو عبارتونو توضيح او

([1]) دا دعربي ژبي مشهوره مقوله ده چي معنٰی يې ده : تر ټولو ښه وينا هغه ده چي لنډه او پوره مطلب ورکوونکي وي.

تشریح ، او په تائید باندي يې عربي عبارتونه دحنفي فقه دېې شمېره معتبرو او خورا غټو غټو کتابونو څخه راغونډ کړي او په حاشيه کي يې ورسره ذکر کړي ، چي دې کار دخدای بخښلي مفتي ظفير الدين صاحب رحمه الله څخه دپنځه ويشتو څخه تر ديرشو (۲۵ – ۳۰) کلونو پوري وخت واخيست ، دمحققينو او مدققينو علماؤ څخه پټه نه ده چي تخريج او تحقيق همداسي سترې کيدونکي او دخورا زيات زحمت غوښتونکي وظيفه ده ، چي ډير ځلي يو محقق ديو وړوکي کتاب په تخريج او تحقيق کي په لسګونو کلونه تير کړي ، دعربي نړۍ مشهور محقق عالم اروانښاد محمد عبد السّلام هارون رحمه الله دعلامه جاحظ دکتاب (الحيوان) چي پر اتو ټوکونو باندي مشتمل دی ، په تخريج او تحقيق کي تر ديرشو زيات کلونه تير کړل ، او دشام محقِّق حنفي عالم علامه عبد الفتّاح أبو غدّة رحمه الله ځای پر ځای په خپلو تصنيفاتو او ليکونو کي يادونه کړيده چي په فلاني يوه لفظ پسې مي پوره يوه ورځ، دوې ورځي، هفته، مياشت ، دوې مياشتي ... او تردې لاهم زيات وخت تير کړی، خير! دا يوه جمله معترضه وه ، آمدم بر مطلب ، کله چي مولانا ظفير الدين رحمه الله ددې فتاواو تخريج وکړ او دعربي عبارتونو حوالې يې هم وعربي کتابونو ته ورکړي ، نو چونکه دده په وخت کي دعربي کتابونو چاپونه کم وه ، او هم په يوه ډول باندي وه ، مګر وروسته چي کله دډيرو کتابونو لکه ردالمحتار ، درمختار ، البحر الرائق ، عالمګيري او داسي نورو کتابونو بيل بيل چاپونه راووته ، دبيلګي په ډول: ردالمحتار ، په شپږو ۲ جلدونو کي لومړی چاپ سويدی، بيا په اوو کي هم ، ورپسي په دوولسو ۱۲ کي هم، بيا په بيروت، لبنان، کي دار الکتب العلمية په ۱۴ جلدونو کي چاپ کی، او اوس مو دبعضو علماؤ څخه اوريدلي دي چي په شام کي محققينو علماؤ پر شامي يعني ردالمحتار باندي يو پراخ تحقيق شروع کړی وو چي اوس پای ته رسيدونکی دی، ويل کيږي چي رد المحتار به ددې نوي تحقيق سره په شاوخوا ديرشو ۳۰ او يا تردې هم په زياتو جلدونو کي چاپ سي.

له دې امله ددې ضرورت پيښ سو چي بايد په فتاوی کي دهر کتاب ورکړل سوي حوالې لږ تر لږه دوو ۲ بيلو بيلو چاپو ته ورکړل سي، ددې کار لپاره دپاکستان دکراچي په ښار کي دغتي او ستري ديني ادارې (جامعة العلوم

الاسلامية ، بنوري ټاؤن (نيو ټاؤن) ، كراچي) ([1]) ددار الافتاء دڅانګي تكړه مفتي حضرت مولانا مفتي محمد صالح اوكاړوي (حفظه الله) ليخي راونغښتي او په خپل نه ستړي كيدونكي كوشش يې دا نيمګړتيا هم له مينځه يوړه ، چې په دې ترڅ كي يې د: الدر المختار ، ردالمحتار ، فتاوى عالمګيري ،البحر الرآئق ، هر يوه دوې حوالې درج كړي ، دفتاوى دار العلوم ديوبند تر ۹۰ % په سلو كي زياتي حوالې وهمدغو درو كتابونو ته دي يعني: الدر المختار ، رد المحتار او عالمګيري .

موږ چي كله دفتاوى دار العلوم ديوبند پښتو په سمون او تصحيح لاس پورى كړى نو دې ټكي ته مو هم زياته پاملرنه وكړه چي بايد په پښتو فتاوٰی كي هم دا حوالې مكملې راوستل سي ، چي دهمدې امله دكتاب چاپيدل شاوخوا پنځه ۵ مياشتي نور وځنډيدل، خو هغه دچا خبره: دير آيد خوب آيد.

☜ ددريم ټوك او پنځم ټوك په پاى كي دضميمي په شكل باندي دوې عربي علمي تحقيقي رسالې چي تر نن ورځي پوري مخطوطي وي، دلومړي ځل لپاره په ښايسته كمپيوټري كتابت ، دعلمي او تحقيقي تخريج او تعليق سره چاپيږي.

له دې دوو رسالو څخه لومړى رساله چي ددريم ټوك په پاى كي راغلي ده په نامه د (غاية التحقيق ونهاية التدقيق فى تحقيق مسئلة اقتداء الحنفى بالشافعى) ده، چي دعلامه رحمة الله بن القاضى عبد الله الحنفى السّندى ثم المكى رحمه الله وفات په كال ۹۷۸ هـ يا ۹۹۳ هـ تصنيف دى ، چي دحنفي مذهبه شخص داقتداء په شافعي مذهبه پسي موضوع يې پكښي څيړلي ده ، دا رساله په عربي ژبي ده او دعلماؤ او طلباؤ او نورو څيړونكو لپاره دلومړي ځل لپاره خپريږي.

([1]) ددې مدرسې لومړى بنسټ ايښوونكى اولومړى شيخ الحديث په ختيه پښتون او دپېښور دبنور دسيمي اوسيدونكى جيّد عالم حضرت مولانا محمّد يوسف البنوري رحمه الله دى ، چي دخپل وخت دنامتو علماؤ په سر كي يې نوم راځي ، دى سره له دې چي عجمۀ خو داسي عربي ليك يې درلودى چي ډيرى عرب علماؤ ورته ګوتي په غاښ نيولي وي، ده ډير تصنيفونه هم كړيدى چي ټول يې مشهور دي، ددې كرښو ليكونكي عاجزه بنده دده دترمذي شريف عربي شرح (معارف السنن) په شپږو جلدونو كي مطالعه كړيده ، دده په دې مدرسه كي تقريبًا لس زره ۱۰۰۰۰ طالبان هركال داخله اخلي ، او دحديثو ، فقه اوداسي نورو علومو لپاره دتخصّص ددرجې څخه فارغيږي ، او په آخر كي ديوې علمي مقالې په ليكلو سره دفراغت سند ترلاسه كوي، څښتن جل جلاله دي يې تر او تازه لري او ددې بيلګي دي په ګران هيواد كي هم وزيږوي. آمين

دوهمه رساله په نامه د (النظم المستطاب لحکم القرآءة في صلاة الجنازة بأمّ الکتاب) ده، چي دمشهور حنفي محقق عالِم علامه أبی الإخلاص حسن بن عمّار الشرُنبلالی الحنفی وفات په کال ۱۰۶۹ هـ ، چي نوموړی دفقه دمشهور کتاب نور الإیضاح مصنّف هم دی، تصنیف کرده ده ، دا رساله هم پر یوه مسئله باندي رڼا اچوي ، هغه دا چي آیا دجنازې په لمانځه کي سورة الفاتحة یعني الحمد لله شریفه ددعا په نیت سره ویل درست دي اوکه څنګه ؟ په دې رساله کي په پوره تفصیل سره پرهمدې موضوع باندي بحث سویدی، چي ددې دواړو رسالو دآیاتونو او احادیثو تخریج، دعلماؤ تراجم، دمصنّفاتو او اعلامو ضبط او نور، دجدید دور ددې فن (تحقیق او تخریج) دعلماؤ دقواعدو سره مطابق سویدی ، په اعلی چاپ او کتابت ددرنو لوستونکو لپاره وړاندي کیږي.

☜ په کمپیوټر باندي دلیکلو په دوران کي پوره کوشش سویدی تر څو نوشته په ښه توګه ، ښایسته ، او دکمپیوټري میتودونو سره یې هرڅه برابر سي ، چي دا هر څه ستاسي په وړاندي دي.

ضروري یادونه

زموږ ددې هڅو سره سره بیا هم یقیني خبره ده چي یو ځای نه یوځای به ضرور تیروتنه سوی وي ، ولي چي دقدرتونو او کمال خاوند یوازي همغه ذات الله ﷻ دی ، زموږ غوندي عاجزه وګړو او کمال په مینځ کي ډیر زیات واټن دی ، نوله دې امله چي تیروتنه، هیره، خطا، سهو او نسیان تل دهر انسان سره ملګري وي ، که تاسي محترم لوستونکي زموږ سره په دې لار کي مرسته وکړئ ډیر به خوښ سو، ځکه چي بیا به ان شاء الله هغه خطاء او تیروتنه په آینده کي اصلاح کوو ، که هر چاته ددې فتاوی په عبارت کي هر ډول تیروتنه تر سترګو سي او وروسته له سوچ او فکر کولو څخه دی یې په غلطیدا باوري او مطمئن سي ، نو هیله لرو چي دلیك یا له بلي یوې لاري چي هغه ورته لاس رسی لري موږ خبر کړي ، موږ به یې پوره ممنون او شاکر یو او هم دالله ﷻ ددربار څخه به ورته دنیکي بدلې او عوض غوښتونکي یو.

* * *

دفتاوی دار العلوم دیوبند (پښتو) دټولو ټوکونو دبابونو او فصلونو اجمالي فهرست

لکه څنګه چي مو مخکي وويل چي دټولي فتاوٰی دغټو غټو مبحثونو اجمالی تحليل به دلته دلوستونکو دبصيرت لپاره وړاندي کوو، ځکه نو دا دی دشيبې په رارسيدو اوس ذکر کيږي :

دهمدې لومړی ټوك په پيل کي زموږ ددې شروع بيان تر ختميدو وروسته ، ددوو مخورو کسانو لخوا چي ددار العلوم ديوبند مهتمم حکيم الاسلام حضرت مولانا القاري محمد طيب صاحب او ددې فتاوی مرتب او محشي مولانا ظفير الدين صاحب رحمهما الله دي ، په څه باندي سلو ١٠٠ پاڼو کي، ددې فتاوٰی تاريخي څيړنه سويده ، په دار العلوم ديوبند کي داستفتاء او افتاء لړۍ (سلسله) څنګه شروع سوه ؟ وړپسي رسمي دار الافتاء څنګه مينځ ته راغله ؟ ددار الافتاء ترټولو لومړی مفتي څوك ؤ ؟ دهغه دژوند پيښې ليك او علمي سويه څه وه ؟ داستفتاء او افتاء مرحلې به څنګه سرته رسيدې ؟ ... دا او دې ته دورته لسګونو پوښتنو مفصَّل ځوابونه او معلوماتونه پکښې راغونډ سويدي ، پردې سربيره دافتاء په باب پوري اړوند دټولو اړينو او ضروري څيړنو يادونه پکښې سويده.

تردې وروسته دپوښتنو او ځوابونو پراخه لړۍ شرع کيږي چي دهر ټوك بيل بيل غټې ټکي پکښې په لاندي ډول دي:

١. **لومړی ټوک** : کتاب الطهارة ، ټولي پوښتني او ځوابونه (**٥٢٣**) ، دپاکي په موضوع پوري اړوند بيلابيل ګڼ شمېر سوالونه اوجوابونه، داوداسه فرائض، سنتونه، مستحبات او آداب ، داوداسه نواقض ، دغسل فرضونه ، سنتونه ، مستحبات او آداب ، دغسل واجبوونکي شيان ، پاکي او ناپاکي اوبه، دحوض يا تالاب مسئلې، دڅاه ګانو مسئلې، دمردارو اوبو احکام ، دتيمُّم مسئلې ، پر موزو باندي دمسح کولو مسئلې ، دحيض ، نفاس او استحاضت احکام ، دمعذور سره اړوند احکام ، ناپاکي او ددې څخه دپاکي ترلاسه کولو مسئلې ، داستنجاء مسئلې ...

٢. **دوهم ټوک** : کتاب الصلٰوة (لومړنۍ څلورمه برخه) ، ټولي پوښتني او ځوابونه (**٢٠٣**) ، دلمانځه اهميت او فضيلت ، دلمانځه وختونه ، مکروهه وختونه ، داذان احکام ، دلمانځه شرطونه : طهارت ، دعورت پټول ، قبلې ته مخ کول ، نيت تړل ... ، صفة الصلٰوة، فرضونه، واجبات، سنتونه، کيفيت او آداب دلمانځه، قرائت في الصلٰوة ...

٣. **دريم ټوک** : کتاب الصلٰوة (دوهمه څلورمـــه برخه) ټولي پوښتني او ځوابونه (**٧٨٧**) ،

باب الامامة ، جماعت او دهغه اهميت ، دامامت مستحق کيدل ، دچا امامت صحيح دی او دچا دانه دی صحيح ، دصف ، اقتداء ، امام او مقتدي احکام، دامام پيروي ، دمدرك ، لاحق او مسبوق احکام ، الحدث في الصلوة ...
۴. **څلورم ټوک** : کتاب الصلوة (دربيمه څلورمه برخه) ، ټولي پوښتني او ځوابونه (۱۰۱۷) ، ما يفسد الصلوٰة وما يكره فيها ، مسائل زلة القاري ، مکروهات صلوة ، مسائل مسجد ، باب الوتر والنوافل ، مسائل قنوتِ نازله ، مسائل سنن مؤکده ، مسائل سنن غير مؤکده، مسائل صلوة التراويح ، مسائل صلوة التهجد ، مسائل صلوة التسبيح ، ادراك الفريضة ، قضاء الفوائت ، دلمانځه کفاره دفديې په شکل کي ، باب سجود السهو ، باب سجود التلاوة ، صلوة المريض والمعذور ، صلوة المسافر ...
۵. **پنځم ټوک** : کتاب الصلوة (آخري څلورمه برخه) ، ټولي پوښتني او ځوابونه (۹۰۲) ، باب صلوة الجُمعة ، باب صلوة العيدين ، صلوة الاستسقاء ، کتاب الجنائز ، احضار الميت ، غسل الميت ، کفن الميت ، حمل الجنازة ، صلوة الجنازة ، فصل القبر والدفن ، دتعزيت بيان ، فصل زيارة القبور وايصال الثواب ، متفرقات الجنائز ، احکام شهيد ...
۶. **شپږم ټوک** : کتاب الزکوٰة ، کتاب الصَّوم ، کتاب الحج ، ټولي پوښتني او ځوابونه (۱۰۵۳) ، شرائط او صفت دزکاة ، دزکاة ادا کول ، دحيوانانو زکاة ، دسرو زرو، سپينو زرو او نقدو زکاة ، دتجارت دسامان زکاة ، عُشر ، مصارف دزکوة ، باب صدقة الفطر ، متفرقي مسئلې دزکاة ، کتاب الصوم ، دروژې نيت ، دروژې ډولونه او حيثيت ، رؤيت هلال ، اختلاف مطالع ، دمنجمينو اقوال ، ديوم الشك روژه ، هغه شيان چي روژه ماتوي او يوازي قضا غواړي ، هغه شيان چي روژه ماتوي او قضا او کفاره دواړه غواړي ، دروژې کفاره ، هغه صورتونه چي روژه ماتول پکښې جواز لري اوپه کومو صورتونو کي چي فديه لازميږي ، متفرقات کتاب الصوم ، داعتکاف مسئلې ، کتاب المناسك ، دحج فرضيت ، کيفيت او اداء کول ، ارکان او واجبات دحج ، احرام ، جنايات ، حج بدل ، زيات مدينه منوره ، متفرقي مسئلې دحج ...
۷ – ۸ . **اووم او اتم ټوکونه** : کتاب النکاح ، ټولي پوښتني او ځوابونه (۱۵۲۷) ، داووم ټوك مبحثونه : کتاب النکاح ، دنکاح ارکان ، شرطونه او دانعقاد صورتونه ، مسائل متعلقات نکاح ، هغه ښځي چي نکاح ورسره صحيح ده ، محرمات يعني هغه ښځي چي نکاح نه ده ورسره صحيح ، حرمت دنکاح په سبب دمصاهرت (خپښتوب) ، حرمت دنکاح په سبب درضاعت (تی رودلو) ، حرمت دنکاح په سبب دجمع ، حرمت دنکاح په سبب داختلاف دمذهب ، حرمت دنکاح په سبب دحق دبل چا ، حرمت دنکاح په سبب دطلاق ،

متفرقي مسئلې دنكاح .
داتم ټوك مبحثونه : ولايت دنكاح څوك لري ؟ ، مسئلې او احكام دفسخ دنكاح ، نكاح په ذريعه دفضولي او وكيل ، متفرقي مسئلې او احكام دنكاح ، مسئلې او احكام دكفاءت ، مسئلې او احكام دمهر ، مسئلې دجهيز او متفرقي مسئلې ، دكافر دنكاح سره اړوند مسئلې ، حقوق الزوجين او په ښځو كي عدل او مساوات ، دسړي يو بل ته دشيدو وركولو احكام او مسئلې ، درضاعت مسئلې ...
۹ – ۱۰ . **نهم او لسم ټوكونه** : كتاب الطلاق ، ټولى پوښتني او ځوابونه (۱۱۴۲) ، دنهم ټوك مبحثونه : كتاب الطلاق ، دطلاق دواقع كيدو شرطونه ، طلاق په واسطه دليك او نوشتې ، طلاق صريح ، درې طلاقه او مسئلې يې، غير مدخوله ښځي ته طلاق ، كنايات الفاظ دطلاق ...
لسم ټوك : تفويض دطلاق ، طلاق معلق ، دطلاق متفرقي مسئلې ، طلاق رجعي ، باب الخلع ، باب الايلاء ، باب الظهار ، نامرد ، مجنون ، متعنت او نور عيبونه او نكاح ، زوجۀ مفقود الخبر ، دعدت مسئلې ...
۱۱. **يوولسم ټوک** : باب ثبوت النسب ، الحضانة ، النفقة ، ټولي پوښتني او ځوابونه (۲۰۸) ، باب ثبوت النسب ، دكوچنيانو دتربيې مسئلې او احكام ، دنفقې متعلق احكام او وسائل ...
۱۲. **دولسم ټوک** : كتاب الأيمان ، ټولى پوښتني او ځوابونه (۷۲۱) ، كتاب الأيمان ، باب النذور ، كتاب القصاص والحدود ، دزنا احكام ، دسرقي (غلا) احكام ، حد شراب ، حد قذف ، تعزير ، كتاب السير ، دجهاد احكام او مسئلې ، عشر اوخراج ، جزيه ، دمرتد احكام ، كتاب اللقطة ...
دیادوني وړ ده چي مفتي صاحب رحمه الله دهر باب او مبحث دپوښتنو دځوابونو په ترڅ كي دمخالفينو ، گمراه فرقو ، بدعتيانو ، غيرِ مقلدينو، سلفيانو ، وهابيانو، او نورو لار وركوونكو ډلو پر باطلو عقائدو باندي كافي او شافي بحثونه كړيدي ، چي لوستونكي به يې وخت په وخت دمطالعه كولو په دوران كي ويني ، او ترې مستفيد كيږي به .
په آخره كي ددرنو لوستونكو څخه دزړه له كومي ددعا غوښتنه كوو چي ددې ادارې په اړه دالله جل جلاله دعظيم دربار څخه خواست وكړي چي نور هم دخدمت كولو توفيق ورپه برخه كړي. وما ذلك على الله بعزيز
هيره دي نه وي چي كومو ملګرو ددې ستر كتاب چي شا اوخوا پر پنځه زرو (۵۰۰۰) پاڼو باندي مشتمل دی ، په سترو مرحلو كي اوړه راكړي ، په هر ډول مرستي سره ، الله

ﷻ دې تل ښاد اوکامران لري ، په تيره بيا دکمپوزنګ په لړۍ کې دواړو کشرانو وروڼو مولانا حافظ نور احمد الحقاني النوراني ، چې اوس مهال (هفته ، ۲۹ دجمادی الأولی، ۱۴۳۰ هـ) په پيښور، اکوړه خټک ، دار العلوم الجامعة الاسلامية الحقانية ، کې دنبوي احاديثو په دورې باندې بوخت او مسافر دی، الله ﷻ دی حافظ اوناصر سي، همدارنګه محترم قاری عبد الاحد الحقاني الحيدري راسره ډيره مرسته وکړه ، الله دې ورته دخپل دربار څخه ستري نيکي بدلې ورپه برخه کړي، آمين.

والله سبحانه وتعالی أسئل ان يجعل جميع اقوالنا واعمالنا مقبولا، وخالصاً لوجهه الكريم كما يحب ويرضٰی ، انه علٰی يشاء قدير وبالاجابة جدير ، وصلی الله تعالی علٰی أشرف رسله وخاتم انبيائه سيدنا محمد وعلی آله واصحابه واتباعه اجمعين الی يوم الدين، والحمد لله رب العالمين.

په سوچه مينه

ستاسي خادمان ورونه

چاپ چاري

الحاج مولوي حبيب الله حبيبي البستي
احمد حبيبي البستي
محمد ثاني حبيبي البستي
محب الله حبيبي البستي

المكتبة الحبيـبية

کمپيوټر چاري

مولوی الحافظ محمَّد أحمد الحقاني الأفغاني
مولوي الحافظ نور أحمد الحقاني النُّوراني
القاري عبد الأحد الحقاني الحيدري

العلم کمپـيوټرز





لومړی توری

دحکیم الاسلام حضرت مولانا الحاج القاری محمد طیب صاحب مہتمم دارالعلوم دیوبند
متع الله المسلمین بطول حیا ته

الحمد لله وکفٰی وسلام علی عباده الذین اصطفٰی: په دارالعلوم دیوبند کي دتعلیم سره سره دافتاء سلسله هم دهمیشه څخه جاري پاته ده لیکن ابتداءًا ددی څه منظم اوذمه وارانه صورت نه وو په انفرادی طور باندی به استاذانو او داداري عالمانو دپوښتنه کوونکو دسوالونو جوابونه ورکول دچابه چه دچا سره مناسبت وو هغه به هم دهغه څخه پوښتنه وکړه اوعمل به یې باندی کوی، دعملی انضباط هیڅ صورت نه وو.

دادار العلوم دار الافتاء: په سنه ۱۳۰۴هـ کي چه کله ددارالعلوم عمر دوه ویشت ۲۲ کاله وو په ده کي دافتائی خدماتو منظم جوړولو بنیاد کښېښوول سو ګواکي چی اوس دارالعلوم دافتائی خدماتو ذمه واری په غاړه واخیسته. لیکن اوس هم ددې څه اداری صورت نه وو، په ضمنی طور باندی به دمختلفواستاذانو څخه دافتاء کار اخیستل کیدی فرق یوازي دومره ؤ چه مخکی به پوښتنه کونکی ددغه عالمانو څخه کار اخیستی اوس اداره کار اخیستل شروع کړل لیکن په عمل کي انضباط یا داداري صورت اوس هم نه وو.

دغه رکم ددار الافتاء صورت خو قائم سو لیکن ددې څوك ذمه دار مفتی په متعیني طریقی باندی مقرر نه وو چه په هغه سره ذمه دارانه صورت قائم سوی وای بلکه دا اداره دمدیر څخه بغیر په ذمه دارانه ډول سره چلیده.

په سنه ۱۳۱۰ هـ کي ددې شعبی څخه دیوې مستقلی شعبی جوړولو پلان مخ ته راغی او اراده وکړل سوه چه دافتاء منصب ته دیو حاذقِ علوم مفتی په ذمه واری سره زینت ورکول سی اودی شعبی ته ذمه دارانه شکل اوحیثیت ورکول سی.

دافتاء دمنصب اهمیت او عظمت: دافتاء منصب په عملی سلسلو کي ترټولو څخه زیات مشکل دقیق اومهم ترین ګڼل سوی دی. دفقهی په لکونو متماثل جزئیات او دهغو په متعلقه احکامو کي په لږ لږ فرق سره دحکم تفاوت محسوسول عمیق علم غواړی کم چه دهر عالم بلکی دهر مدرس هم دوس خبره نه ده، ترڅو پوری چه دفقهی سره پوره مناسبت

په ذهن او ذکاء کي خاص قسم صلاحیت اوپه زړه کي دتفقه ماده نه وی. ددې وجه په یوه مدرسه دینیه کي دافتاء دپاره دشخصیت انتخاب نهایتی پیچیده مسئله ګڼل سویده کمه چه دکافی غور وفکر، او سوچ او پلټني وروسته حل کیږی او بیا هم دتجربو محتاج وی.

ددار العلوم دیوبند غوندی علمی مرکز ددار الافتاء دپاره دیو داسی شخصیت ضرورت وو په چا کي چه پخپله هم دمرکز جوړیدلو صلاحیتونه موجود وی، او دعلم او تفقه دامیتازی استعداد سره سره دصلاح او تقویٰ او برګزیده والی شانونه په هغه کي موجود وی.

په دې ډول ددار الافتاء دقیام دپلان سره ددی ځای اکابرو ته لومړی فکر دافتاء دمنصب او په خصوصیت سره ددار العلوم غوندی مقدسی اداری ددار الافتاء دلوړ شان سره برابر دمفتی انتخاب کول وو، دچا پر مضبوطو اوږو باندی چه ددې عظیم ترین منصب او وزن لرونکي اداری بار کښېښوول سی.

ددار العلوم دجاذبیت اومقبولیت کرشمه ښکاره سوه اودیو داسی شخصیت انتخاب په عمل کی راغی څوك چه ګواکي دازل څخه هم ددی وعدی دپاره پیدا سوی وی اودا انتهایی ذمه داری ددغه ذات دپاره اودغه ذات ددغه ذمه داری دپاره من جانب الله موزون اومنتخب سوی وو.

زه چي دا مهال دافتاء دپاره ددې منتخبي هستیِ ذکر کول غواړم هغه ذاتی ګرامی دحضرت مفتی اعظم هند مولانا الحاج الشیخ عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی دیوبندی نورالله مرقده دی څوك چه په جماعت دیوبند کي دمفتیان هند استاذ او مربی وو. او دهغوی تعلیم وتربیت او دهغوی دفتاوٰی په رڼا کي ډیرو ته دمفتی جوړیدلو سعادت میسَّر سو. دحضرت ممدوح په نامه نامداره داسي یو سړی وو چي ددی څخه بالاتر دی چه زموږ غوندی خلګ دهغوی تعارف کولو دپاره کښینی کله چه موږ اوزموږ کارونه پخپله ددی هستیو په نسبت اونوم سره متعارف دی نو زموږ دخلګو څه هستی ده چه موږ دهغوی دتعارف کولو پر مقام باندی دراتلو جرأت وکړو. لیکن دا سطرونه دهغوی تعارف نه دی بلکه صرف عقیدت مندانه تذکره ده کمه چه اولاً دخپل قلبی محبت او تسکین دپاره پر قلم باندی راغی. بل داچي دالله ﷻ دداسی برګزیده بندګانو تذکره ذکر اوعبادت هم دی ځکه چه: اذا ذکروا ذکر الله واذا ذکر الله ذکروا، یعني کله چی ددی پاکو بندګانو ذکر کیږي نو دالله ذکرهم ورسره کیږی اوکله چه خدای ﷻ ذکر کیږی نو ددی خاصو بزرګانو ذکرهم ورسره کیږی.

خاصانِ خدا خدا نباشد لیکن زخدا جدا نباشد

ددې وجه ددی هستیو تذکره محض تاریخ نه دی. بلکه طاعت اوقربت اوتعلیم اوعبرت هم دی. بل ددې وجه چی دفتاوٰی کمه ذخیره چې په دې مجموعه کې پیش کیږې هغه هم ددې مقدسی هستئ دعلمی افکارو ثمره ده. ددې وجه ضرورت وو چه دفتاوٰی سره دصاحبِ فتاوٰی تذکره هم مخته راوستل سی، دپاره ددی چه دمفتی دعظمت په رامخ ته کیدلو سره دفتاوٰی عظمت په زړونو کې ځای ونیسی ولې چه: قدر الشهادة قدر الشهود (یعنې دشاهدئ ارزښت دشاهدانو دارزښت په اندازه وي).

حضرت مفتی اعظم هند مولانا الحاج الشیخ عزیز الرحمٰن عثمانی دیوبندی رحمه الله

حضرت ممدوح ددیوبند دعثمانی شیوخو دخاندان سره تعلق لری دحضرت مولانا فضل الرحمٰن صاحب رحمة الله علیه خلفِ اکبر دی، څوك چه ددارالعلوم دیوبند داولینو اساطینو، دمجلس شوٰری دارالعلوم دطبقۀ اولی په اراکینو کی او دحضرت اقدس مولانا محمد قاسم صاحب رحمة الله علیه بانی دارالعلوم دیوبند په مخصوصو مجلس نشینو احبابو کې وو. ددی څخه علاوه دحضرت مولاناحبیب الرحمٰن صاحب رحمة الله علیه مهتمم سادس دارالعلوم دیوبند حقیقي مشر ورور او دحضرت مولانا شبیر احمد صاحب رحمة الله علیه علاتی ورور کیدی، دحضرت دزیږیدو نیټه سنه **۱۲۷۵**ھ ق وه، اوتاریخی نوم یی ظفر الدین دی.

حضرت مفتی اعظم قدس سره په کال سنه **۱۲۹۸**ھ کی دتمامو علومو او فنونو فراغت حاصل کړی، او ددرس اوتدریس په سلسله کی یی په میرټه کی قیام وفرمایی اوتر یوی اوږدی مودی پوری دتعلیمی مشاغلو سره هغوی هلته مقیم وه، چونکه هغوی دحضرت شاه رفیع الدین صاحب دیوبندی نقشبندی رحمة الله علیه مهتمم ثانی دارالعلوم دیوبند په اجلو خلفاوو کی وو، ددې وجه په میرټه کی دتدریس دقیام په دوران کی دبیعت او دارشاد سلسله هم جاری وه او ډیر دنیك بخته روحونو خاوندان ددوی دانفاسِ طیبه ؤ څخه مستفید سول اوخپل مراد ته ورسیدل. په کال سنه **۱۳۰۹**ھ کی دی دمیرټه څخه دارالعلوم ته راوغوښتل سو اوپه دارالعلوم کی نائب مهتمم وټاکل سو، او دمهتمم په نه موجودگی کی به دوی داهتمام کارونه مخ په وړاندې بیول.

<u>**دافتاء دمنصب دپاره دده نوم ټاکل**</u>: په کال (۱۳۱۰ھ) کی دحضرت قطب عالم مولانا رشید احمد صاحب گنگوهی قدس سره سر پرست ثانی دارالعلوم دیوبند په تجویز سره ددارالافتاء دپاره یو مستقل منصب دافتاء وټاکل سو اوحضرت اقدس گنگوهي رحمه الله

په خپل فراستِ باطنی سره تمام جوهر کم چه په یوه ذمه دار مفتی کی په کاردی، په حضرت مفتی اعظم کی یی ولیدی او هغوی یی دافتاء دمنصب دپاره نامزد کړی. ددې وجه مفتی اعظم یوازي ددار العلوم صرف مفتی نه وو بلکه ددی ځای دافتاء دمنصب اولنی نقطه هم ده دکم شروع چه دحضرت ممدوح دذاتِ گرامی څخه وسوه اوهغوی ددی ځای دقصر افتاء دپاره خشتِ اول ثابت سول چی پرهغه باندی مخ ته تعمیر ودریدی.

په افتاء کی دده مهارت او پوهه: په وخت تیریدلو سره دهغوی افتایی مهارت اوپوهه تردی حده ورسیده چه دلویو څخه لویه مسئله اودمعرکة الاراء استفتاء جواب به یی په قلم پورته کولو او کتابونو ته درجوع کولو څخه بغیر بدون دتکلیف څخه په سفر اوپه حضرکي ليکی، لویی لویی اواهمی فتواوی دکمو په ترتیب کولو کی که چیري دنن وخت مفتیان اوماهر عالمان مشغول سی نو دکتابونو دکتلو څخه وروسته به هم ، او شاید دورځو اودهفتو دسوچ اوفکر څخه وروسته به هم دفتوا داسي اسان عنوان ښکاره اومعلوم نه سی کم به چه حضرت ممدوح په قلم پورته کولو سره بی تکلیفه ولیکی. لکه څه رکم چه روزمره معمولی خبری په ډائری کی لیکل کیږی.

هغوی څلویښت کاله ددارالعلوم ددار الافتاء دقدر وړ خدمتونه سرته ورسوله اوپه دغه دور کی یی په سوونو داسی مهمی او مشکلی فتواوی دقلم ترڅوکی تیری کړی کمی چه نه یوازي فتواوی بلکه په معرکة الاراء مهماتو کی یې دمحاکمې حیثیت درلودی، اوصرف په یوڅو لفظو کی به یې دهغه مسئلی حل او جواب دالله تعالٰی په ورکړی علمی بصیرت او ددینی کارونو دپوهی په واسطه ورکوی، کمي مسئلې چي به عقده لا ینحل (یعني نه خلاصیدونکي غوټه) وې، او دهغو شکوك اوشبهات به یی لیری کول، بلکه په عام ډول په داسی مسئلوکی به ددوی عزتمند نوم دوخت دعلماؤ دتسلی اواطمینان باعث کیدی.

په سفر اوحضرکی به ددوی سره داستفتاء لویه ذخیره موجوده وه اوپه عامو حالاتو کی دکتابونو دکتلو څخه ماسوا یوازي بلامراجعت کتب په محض حذاقت اومهارت اوکمالِ استعداد سره به یی بی تکلیفه فتوٰی ثبت فرمایله اونصوصِ فقهیه به یی اکثر اوبیشتر په حفظ او یاداشت سره تحریر فرمایل په کمو کی به چه فرق هم نه راوتی. حتٰی چه په آخره کی پخپله په نفسِ نفیس ناطق کتاب جوړ سوی وو، افتایی حکم به نهایتی په تول پوره، اودزیادت اودنقصان څخه به پاك، مختصر اوجامع وو.

دفتاوٰی ترتیب: ددی عادل شاهد هغه ذخیره فتاوٰی ده چه دهغه یوه حصه ډیر مخکی دپاکستان مفتی مولانا محمد شفیع صاحب د (عزیــز الفتاوٰی) په نوم سره شائع فرمایلی

وه. خوپه داسې شان سره چه څه حصې مرتبې وې اوڅه غير مرتبې، بياتصحيح يې چه په کمه اندازه باندې کيدل پکار وه هغه نه وه سوې.
اصل ذخيره ددارالعلوم ديوبند په دارالافتاء کې محفوظه ده. اوس دغه ذخيره از سرِ نو ددار العلوم ديوبند دپوره عملې په وسيله باضابطه مرتب کيږي چه دهغه اولنۍ حصه دا ستاسو په لاس کې مجموعه ده کمه چه لوستونکو ته ډالۍ کيږي. اميد دی چه باقيمانده مجموعې به هم ژر شائع سی، په لکونو افرادو په دی فتاواوو باندی عمل وکی اوخپل عاقبت يې درست کې اوپه لکونو سعيد الارواح به وی چه خپل عاقبت به ښائسته کړی اوداغير منقطع صدقه جاريه به هم داسې روانه وی.
بيعت او ارشاد: حضرت ممدوح نه صرف عالم او مفتې وو بلکه عارف بالله او دصاحب باطن اکابرو څخه وو. دبيعت او ارشاد سلسله مستقلاً قائمه وه اودخدای ﷻ په زرهاوو بندګان دهندوستان په اطرافو کې دهغوی په باطنی تلقين او تربيت سره فيضياب سول اومراد ته ورسيدل اودا سلسله ترليری ليری پوری خپره سوه هغوی دحضرت اقدس مولانا شاه رفيع الدين صاحب قدس سره مهتمم ثانی دارالعلوم ديوبند دخلفاوو څخه وو. او دنقشبنديه سلسلې په نهايت صاحب حال اوممتاز مشائخو کې دهغوی شمار کيدی.
دهغوی دباطنی فيوضو اوبرکاتو سلسله ترليری ليری پوری خپره سوه. په ميرټه کې دحضرت ممدوح دسلسلې يوه لويه حلقه وه، حضرت مولانا قاری محمد اسحٰق صاحب رحمة الله عليه دهغوی دخلفاءِ مجازينو څخه وو، دحضرت قاری صاحب مو ډير کافی اووار وار زيارت کړيدی نهايتی بی نفسه بزرګ او رفيع المقامات هستی وه، دهغوی کافی سلسله خپره سوه. دقاری صاحب ممدوح مجاز په خلفاوو کې داول نمبر شخصيت فاضلِ يګانه حضرت مولانا بدر عالم صاحب ميرټهي مهاجر مدنی سلمه دی چاچه په دارالعلوم کې دحضرت الاستاذ مولانا انور شاه صاحب رحمة الله عليه څخه دحديث دفن تکميل وکی. ابتداءًا يې په طور دَمعين المدرسين په دارالعلوم ديوبندکې دتدريس کار وکی بياپه جامعه اسلاميه ډابهيل کې دحضرت شاه صاحب په معيت کې يې په طور داستاذ دحديث درس جاری کې اوورسره يې دحضرت شاه صاحب دحلقۀ درس څخه استفاده وکړه اودحضرت ممدوح دحديث علوم اوفيوض يې په نوم دفيض البارى په طور دشرح بخاری مدون کړل کم چه په مصر کې چاپ سو اونن دعلماوو دکتب خانې زينت جوړ سوی دی دملك دتقسيم څخه وروسته مولانا ممدوح پاکستان ته تشريف يووړی او دجامعه اشرفيه ټنډو الله يار دناظم په حيثيت سره يې کار وکی. دهغه څخه

وروسته یی مدینی منوری ته هجرت وفرمایی اواوس مستقلاً هلته په دیار حبیب کی مقیم دی لیکن ددی تمامو مقاماتو دقیام په دوران کی دهغوی داشغالِ باطنیه سلسله قائمه وه. دتربیت دشان به یې برابر کار کوی. نن بحمد الله په مدینه کی دهغوی یوه حلقه ده داطرافو څخه راتلونکی حجاج دهغوی طرف ته رجوع کوی. داهم هغه دسلسله نقشبندیه فیض دی کم چه دحضرت مفتی اعظم هند دسلسله څخه رسیدلی دی، ددې وجه دمفتی اعظم دسلسلې فیض دهندوستان اوپاکستان څخه تیر سویدی اونن په حجاز کی هم خپل کار کوی.

حضرت مفتی صاحب او کوچنی جومات: دنقشبندیت په مشهورو معلوماتو کی ختم خواجګان هم دی کم چه دحضرت مفتی صاحب په جومات کی چه په دیوبند کی دکوچنی جومات په نوم سره مشهور دی، په پابندی سره به روزانه دسهار دلمانځه څخه وروسته کیدی. نن هم زمونږ دخلګو دپاره دمسرت مقام دی چه دحضرت مفتی اعظم ؒ کشر صاحب زاده مولانا قاری جمیل الرحمٰن صاحب عثمانی مجود ددار العلوم دیوبند داسلسله په پابندی سره قائمه کړیده په کم سره چه دحضرت ممدوح ددور یاد تازه کیږی.

دحضرت اقدس په دی جومات کی ددی احقر قیام په هلکوالی کی ډیر کافی سوی دی. زما اولین استاذ حضرت مولانا قاری عبد الوحید خان صاحب اله آبادی رحمة الله علیه دچا څخه چه ما په تجوید سره دقرآن حفظ کړی وو هم په دی کوچنی جومات کی اوسیدی، زه به هم دمدرسې تر اوقاتو خارج دقرآن شریف دیادولو دپاره دقاری صاحب مرحوم په خدمت کی په هم دی جومات کی حاضر اوسیدم اودغه رکم به دحضرت مفتی اعظم ؒ دزیارت همه وقت موقع میسر کیده دمتعددو اعمالِ شرعیه وو هیئت ما دحضرت ممدوح دعمل څخه زده کړی وو مثلاً داودس کولو په وخت کی په ګوتو کی دخلال کولو هیئت کم چی زما نه وو زده ما دحضرت ممدوح دعمل څخه زده کړی وو.

تواضع او خدمت دخلګو: دعلم اوعمل سره تواضع اوکسر نفس خپل ځان پټول او ورکول دهغوی خاص رنګ وو، کم چه به په کوچنیو کوچنیو جزئیاتو کی هم ښکاره وو. دروزانه عادت یې وو چه دمازیګر دلمونځ څخه وروسته به دمحلی دشاوخوا کورونو دروازو ته تلی اوپوښتنه به یې کوله چی که څوك دبازار څخه سودا غواړی نو ودی وایی، دکورونو څخه به ږغ راتلی چه مفتی صاحب ماته دځلورو پیسو مرچ راوړه داسی ږغ به هم کیدی چه تیل پکاردی، دبعضی کورو څخه به وویل سوه چه مالګه پکار ده. حضرت ممدوح به دټولو څخه پیسی واخیستی اوبازار ته به ولاړی دیوه یوه دفرمائش مطابق سودابه یی

واخیسته، دچا مالگه دچا مرچ، دچا دهنیا، اودا ټول سامان به یې ددستمال په بیلو بیلو برخو کې وتړي او پخپله به یې راوړي. دابه یې هیڅکله نه برداشت کول چه دا بار بل څوك واخلي پخپله به یې داسامان پرخپلو اوږو باندې راواخیستی. بعضې اوقات به ډېر دروندوالي څخه راکوږ سو خوپه هیڅ حالت کې به یې نه برداشت کول چه دانورو ته حواله کړي اوڅه قدر سپك سی. بیا به پخپله یو یو کورته تلې اودغه رکم به یې فرمائش کونکو ته امانت سپاری. دبې نفسي او دخلگو دخدمت مدعیان به په زرګونو په نظر راسی لیکن عمل اوهغه هم جزئیاتي عمل چه په هغه کې دځان ښکاره کولو او نمود نښان نه وی که څوك جوانمرد وی نو ودی ښیی، لیکن دهغوی په پاك نفس کې ددی تصورهم نه وو چه زه څه خدمت کوم یا دا څومره لوی عمل دی کم چه زما په لاسونو سرته رسیږی، یا داچې زه دنفس دماتولو څه عظیمه کارنامه سرته رسوم.

دباران اوریدو په مهال په وار وار ولیدل سو چه دمحلې دکورونو چت به څڅیدی او دمحلې بیبیانو به سوال وکی چه مفتي صاحب زموږ چت وګوره راڅاڅی، ددی په اوریدو سره به حضرت لنګ ووهی اوپه باران کې به راووتی اودمحلې والاو دکورونو پر چتونو باندی به یې په باران کې دخاوری اچولو خدمت په انتهایي ذوق اوشوق او درمندی سره ترسره کول شروع کړل.

دحضرت دبې نفسي یوه واقعه: دحضرت مفتي اعظم دکور سره یوځای په یوکور کې یوه ډیره بوډی ښځه مقیمه وه چاته چه به ټولو (خوبې مور) ویل، په عمر کې دحضرت ممدوح څخه ډیره زیاته وه هغې یوه ورځ ویل چه عزیز الرحمٰن صاحب! دکور چت ډیر خراب سوی دی په باران کې دومره څاڅی چه ټوله شپه په څاڅیدلو تیره سویده دخاوری اچولو څه بند وبست وکړه، وی فرمایل چه ډیره ښه ده. نوخاوره را وغوښتل سوه او دهغې په کورکې یې واچوله. بیا هغې وویل چه عزیز الرحمٰن! خاوره خو راغله لیکن مزدور څوك نسته چه دا پرچتورباندی واچوم. وی فرمایل، موری! ددی بند وبست به هم وسی، په دغه باران کې یې لنګ ووهی اوپخپله پرچت وختی او پخپله یې پرچت باندی خاوره اچول شروع کړل. په باران کې دخشتیدلو دانتیجه سوه چه تبه باندی راغله سخت تکلیف یې ورکی خو پردغه بوډی مور باندی یې ښکاره هم نه کړه چه په دی خاوره اچولو کې کم مزدور کار وکړی او په دې محنت سره پرهغه باندی څه حال تیر سو؟

عظمت او للّهیّت: په یو ښکاره مقام کې دیو لوړ خدمت انجامول آسانه کار دی ولې چه په دی کې دمدح خلائق اونام آوری مواقع ممکنې وی. لیکن داګمنام خدمات اوهغه هم دداسی لوړی درجې چه لویې خوښوونکې شخص هیڅکله دی خدمت ته نژدی هم نسی

راتلی بلکه دا دخپل وقار اومنصب څخه خلاف ګڼی اوپه تحقیر سره ردول یی خپل حق ګڼی، انجامول څه آسان کارنه دی خوحضرت اقدس به داڅومره په لِلّٰهیت، څومره شفقت اوڅومره دردمندي سره انجاموی چه سترګی زیات محسوسولی نسی زړونه به یی محسوسوی چه ددی نوعیت څه وو؟ داخدمت نه وو عظیمه مجاهده وه چه صرف عظماء یی انجامولی سی، دهر یوه حوصله نه ده چه دی خدماتو ته نژدی هم راسی. که چیری حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه دخلافت کی درعایا په کورونو کی مشکیزي اوچتولي اوپه اوبو یې ډکولی، او دګمنامو بوډی ګانو کورونو ته به رسیدی او دهغوی ډوډی به یی پخوله نو دهغوی پرنقش قدم باندی تلل دهر یوه کار نه دی داصرف دمفتی اعظم غوندی بی نفسه هستیو مقام وو چه دخلګو دخدمت په دی جذبی سره سرفرازه وو اودا هم ددوی حوصله اونصیب وو چه هغوی ددی پاکیزه اعمالو دپاره منتخب سول.

په جماعت ددارالعلوم کی دهغوی دانکساری اوکسر نفسی دی کارنامو دټولو په نزد امتیازی شان درلودی. دا ډول بی ریایی او دتواضع دابی مثاله عملی صورتونه په دائره ددار العلوم کی صرف دهغو دذات سره مخصوص ګڼل کیدل کمو ته به چه ددی ځای تمامو اکابرو دعظمت اووقعت په نظرونو سره کتل اودا خدمت به یی صرف ددوی حصه ګڼل.

درس او تدریس: ددی عملي مجاهداتو سره سره علمی باریك بینی هم ډیري وی، دافتاء سره به ددرس شغل مستقل جاری وو دفقهی اوحدیث اوتفسیر لوړ سبقونه به دهغوی سره وه. لوی لوی باریك تحقیقات کم چه به دهغوی دذهن لاس ته راوړني وي هیڅکله به یی هم دخپل ځان طرف ته نه منسوبولي او ددعوی په رنګ کی به یی نه فرمایل بلکه په طور داحتمال به یی ارشاد فرمایی او دتقریر په ضمن کی به یی ویل چه: په دې مسئله کی یو صورت داهم کیدی سی، حالانکه هغه به دهغوی تحقیق وو. خو هیڅکله به یی هم دانه فرمایل چه په دی مسئله کی زما رایه او تحقیق دادی. که فکر وسی نودا مقام ددی علمی خدمت او دکسر نفسی دمقام څخه هم زیات لوړ او ډیر نازك دی، کم ته چي رسیدل دهر یوه حوصله نه ده. داچي علمی دقائق پخپل ذهن پیش کړی اودا ذهن هیڅکله هم ذکر نه سی دا دبی نفسی اوفنا نهایتی لوړ مقام دی اودا هم هغه چاته نصیب کیدی سی چاچه نفسانیت بالکل ختم کړی وی او تواضع دهغه په رګونو کی ځای نیولی وی.

دنیا دهغوی په نظرکی: زما خسر مولوی محمود صاحب مرحوم رام پوری دخپل طالب علمی په زمانه کی په کوچنی جومات کی دحضرت مفتی اعظم قُدِّسَ سِرُّہٗ سره په یوه

حجره کې اوسیدی اودحضرت دژوند اکثره معمولات به دهغوی په نظر ورتلل. فرمایل یې چه ما هیڅکله هم حضرت ممدوح پښې غځولې پروت یابیده نه دی لیدلی همیشه به راټول زنګنونه پریوتی اوبیده کیدی، دی وایي چي: اول خو ما دا خبره پراتفاقاتو محمول کوله خوچه کله می مسلسل هم دا طرز عمل ولیدی نوزه پوه سوم چه دا اتفاقي خبره نه ده بلکه ارادی فعل دی. نو یوه ورځ ما عرض وکی چه حضرت تاسو غوړولی پښې یو وخت نه بیدیږی، وی فرمایل چه: دنیا دغوړولو پښو دخوب کولو ځای نه دی ددی مقام قبردی په کم ځای کی چه به بنیادم پښې غزوی او بیدیږی به، سبحان الله داکلام دهم هغه چا دژبې څخه ادا کیدی سی چاته چي هر وخت آخرت مستحضر اوعظمت خداوندی دهغه پرزړه باندی محیط اوغوړول سوی وی. په نورو ټکو کی: چاچه ددنیا لذت اوعیش دزړه څخه ایستلی وی اوصرف دالله ﷻ په رښتینو وعدو باندی یې دآخرت شوق دخپل زړه اودماغ تکیه جوړه کړی وی. یوه یا دوی ورځی داسی کول ممکن دی لیکن په دی باندی عُمر تیرول داستقامت نادر ترین مثال دی.

فنائیت او انکساري: ماته داسعادت حاصل دی چه ما جلالین شریف، موطا امام مالك، موطا امام محمد اوطحاوی شریف دحضرت اقدس رحمه الله څخه ویلی دی. لفظونه نهایتی په مزه مزه، ګفتګو نهایتی په کراره کراره، تقریر نهایتی دمعصومیت، دهر لفظ لفظ څخه به یې رحمت اوشفقت اوریدی، دهري کلمی کلمی څخه به یې معصومیت اوسادګی څخیدله. ګواکي دهغوی په زړه کی هیڅ وخت هم داتصور نه وو چه زه څه شی یم یا دادرسِ قرآن اوحدیث زما څه عظیمه کارنامه ده کمه چه زما څخه ترسره کیږی یا دا دسوونو شاګردانو اومستفیدانو حلقه زما دڅه عظیم مقبولیت نښانه ده؟ ددی خیالاتو څخه یې زړه خالی اودماغ فارغه وو په بیدیدو اوپه ویښه چه دکم ذات هر وخت داتصور وی چه دنیا نه دآرام کولو ځای دی نه دپښو غزولو، دهغه په زړه کی دخود پسندی یا خود بینی دا خیالات آیا ځای کولی سوای، بهر حال هغوی ته ددی هیڅکله یاد هم نه راتلی چه زه څه لوی شخصیت یم، یا زما څخه دعلم او عمل څه لوی خدمت سرته رسیږی بلکه هر وخت چه به ورته دکم شی یاد وو هغه دا چه زه نه څه شی یم نه زما څه شخصیت دی نه زما څخه څه خدمت کیږی، زه هم منجمله دعامو مسلمانانو څخه یو مسلمان یم اودا تمام علمی اوعملی خدمات زما دڅه جوهر نتیجه نه ده بلکه صرف فضل خداوندی دی چه کار کوی. داسی زما غوندی په زرګونو بندګان پیدا کیدی سی زه دهغه په بندګانو کی لا شيء محض یم.

الله اکبر! دهرڅه کولوڅخه وروسته دایقین ساتل چه هیڅ نه یم صرف دلویو خلګو کاردی

اوډیر لوی مقام دی دملائکو غوندی مقدسو هستیو به دامقام وی چه دکمال معرفت باوجود به دقیامت په ورځ دا آواز کوی چه: مَا عَرَفْنَاكَ حَقَّ مَعْرِفَتِكَ، (ای پروردګاره موږ ستا کما حقه پیژندګلوي نه ده کړي، چه ستا څه حق مو ادا کړی وی) دانبیاء علیهم السلام غوندی مقدسو ذواتو دامقام دی چه دعمر یوه یوه لمحه په خالص اومخلصانه عمارت کی دتیرولو باوجود دقیامت په ورځ به هم داوایی چه: مَا عَبَدْنَاكَ حَقَّ عِبَادَتِكَ، ای مالکه موږ ستا هیڅ عبادت ونه کی چه ستا څه حق دبندګی ادا سی.

او وریسي وریسي دهغه برګزیده هستیو دنائبانو، او وارثانو دنبوت حضرت مفتی اعظم رحمه الله غوندی هستیو مقام کیدی سی چه هرڅه وکړی اوپه زړه کی دڅه کولو خیال هم نه راولی. حقیقت دادی چه دافنائیت اودبی نفسی انتها یو داسی ممتاز شان دی کم چه هم داسی مقدسینو ته نصیب کیدی سی.

دآخرت غم: دآخرت دغم یی پر زړه باندی تسلط دا وو چه دجلالین شریف په درس کی یی یوه ورځ پخپله داواقعه ارشاد وفرمایله چه زه یوه شپه دبیدیدو دپاره پریوتم نو ناڅاپه می په زړه کی دا اشکال وارد سو چه قرآن کریم خودا دعوٰی فرمایلی ده چه: لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ اِلاَّ مَا سَعٰى (سورة النجم: آية ۳۹) یعني دانسان په کار به هم دهغه سعی ورځی، چه ددی واضحه نتیجه داراوزی چه په آخرت کی به دچا دپاره غیر دخپلي سعی نورڅه کار آمد نه وی او په حدیث نبوی کی دایصال ثواب ترغیب راغلی دی چه په هغه سره دتخفیف دعذاب، رفع دعذاب، او ددرجاتو دترقی صورتونه ممکن ښوول سویدی. دغه شان په شفاعت دانبیاؤ، صلحاؤ، او په شفاعت دحفاظو او شهداؤ سره درفع دعذاب او دنجات او ددرجاتو دترقی وعده سویده چه ددی څخه صفا ښکاره ده چه په آخرت کی به دبل چا سعی هم کار آمده وی. نودا په آیت او روایت کی ښکاره تعارض دی. وی فرمایل چه ددی پر حل می سوچ کوی خو په ذهن کی می رانغی. بالآخر په سوچ سوچ کی می دا خوف پر زړه باندی طاری سو چه کله په آیت او روایت کی داتعارض په ذهن کی پروت دی اوحل په ذهن کی نسته نو ګواکی په دی آیت باندی زما ایمان سست اومضمحل دی، اوکه چیري په دی حالت کی مرګ راغی نو زه به دقرآن په یوه آیت کی دخلجان او ریب غوندی کیفیت دځان سره یوسم. اوپه داسی حالت سره به دحق تعالی په مخکی حاضر سم چه دقرآن په یوه حصه باندی به زما ایمان سست او مضمحل وی نو زما انجام به څه وی اوآیا دي خاتمي ته به حسن خاتمه وویل سی.

پر پښو باندی دشپی ګنګوه ته تنګ: ددی سوچ په راتګ سره دآخرت سوچ دومره په سختی سره ځای ونیوی چه زه هم هغه وخت دکټ څخه ولاړ سوم او سیده می دګنګوه

لاره واخیسته. مقصدمی داوو چه شپه په شپه به ګنګوه ته ورسیږم او دحضرت ګنګوهی رحمة الله علیه څخه به دا اشکال حل کړم چه زما ایمان صحیح سی او دحسن خاتمې توقع پیدا سی. حالانکی هغوی په پیاده مزل عادت نه وو او هغه هم دګنګوه غوندی اوږد سفر کم چه ددیوبند څخه تقریبًا پر دیرش میله فاصله باندی دی اوهغه هم دشپې په وخت کی لیکن کله چه دآخرت خوف دنفس حال جوړ سوی وو نو په دی کی دوساوسو ګنجائش چیري وو ددی جذبی څخه عزم پیداسو او ددغه عزم صادق سره ددومره اوږد سفر کولو دپاره په تیاره شپه کی پیاده روان سو. دصبح صادق څخه مخکی ګنګوه ته ورسیدی حضرت ګنګوهی قدس سره دتهجد دپاره اودس کوی چه حضرت مفتی اعظم سلام ورواچوی وې فرمایل چی څوك یی؟ عرض یی وکی چي عزیز الرحمٰن یم وی فرمایل ته په دی وخت کی څه کوی؟ عرض یی وکی چه حضرت یوعلمی اشکال می راوړی دی اوحاضر سوی یم په کم کی چه مبتلا یم اوهغه داچه (قرآن خو دآخرت نفع صرف په خپل ذاتی سعی کی نافع او مؤثره ښیی چه دهغه څخه دغیر دسعی دنافع کیدلو نفی راوزی، اوحدیث دغیر سعی نافع اومؤثره ښیی چه په دی کی دآخرت نفع په ذاتی سعی کی منحصره نه پاته کیږی کمه چه صراحةً دقرآن معارضه ده نو په ذهن کی ددی تعارض حل نه راځی) حضرت داودس په دوران کی سمدستی وفرمایل چه (په آیت کی سعی دایمان مراد ده کمه چه په آخرت کی دغیر دپاره کار آمده نسی جوړیدی، یعني چه ایمان دیوچا وی اونجات دبل چا وسی. اوپه حدیث کی سعی عملی مراد ده کمه چه دیوه سعی دبل په کار ورتلی سی. ددې وجه هیڅ تعارض نسته) وی فرمایل چه یودم زما سترګی خلاصی سوی لکه چه یوه پرده دسترګو دمخ څخه ایسته سی اودعلم یوه عظیمه دروازه خلاصه سوه.

په هرحال دعلم کمه دروازه چه پردی مفتی اعظم باندی خلاصه سوه هغه خو هم دهغه ذات معلومولی سی چه په دغه دروازه کی دننه څه نوادرات پنهان دی. دفکر کولو وړ دا عظیمه جذبه ده چه دیوې جزئی مسئلې پر یوه علمی اشکال باندی دومره زیات دآخرت خوف پرزړه باندی مسلط کیدل چه پرکټ باندی یوه لمحه قرارنه وی او ددیرش میله اوږد او دشوار سفر فیصله وسوه اوهغه سفر هم شپه په شپه شروع سی دا دعالمِ آخرت سره دڅومره قلبی تعلق او دادنی دنیا او دهغه دراحت اولذت څخه څومره دبی تعلقی او استغناء نادر مثال دی کم چه صرف داکابرو سلفو په تاریخونو کی پیدا کیدی سی.

په هرحال دعلم اوافتاء غوندی علمی مقام ته ددومره لوړ رسیدلو څخه وروسته هم دخپل علم اومنصب دعظمت هیڅ تصور په ذهن کی نه راتلل دتواضع اوکسر نفسی

انتهایی لوړ مقام دی. ددی لوړو مقاماتو دپاره اول خو دهغوی فطرت صالحه مستعد وو کم چه حق تعالی دهم دی احوالو اومقاماتو دپاره منتخب فرمایلی وو، پردې سربیره دهغوی دمربی اعظم حضرت مولانا رفیع الدین صاحب رحمة الله علیه مهتمم ثانی دار العلوم دیوبند مخصوصو توجهاتو پرهغه باندی نوری ځلور سپوږمۍ روښانه کړې وی.

<u>فطري صلاحیتونه</u>: منشی سعید احمد صاحب دحضرت علاتی ورور فرمایل چه دکوچنی والی راهیسی حلم، تحمل او برد باری دهغوی دنفس جوهر وو، که چیري یو شی ته به یی زړه کیدی او والدی به ورنه کی نو ژړا یا چیغی به یی نه وهلی یا به چپ وو یابه دهغه څخه په زیات محروموالی باندی که به ډیر په زړه کی خفه سو نو دننه کوټی ته به ننوتی په یوکنج کی به یی مخ پټ کی زړه به یی سپك کی او وبه یی ژړل لیکن چیغی [illegible]

[illegible]

تاریخ جوړ سو.

ددې توجه الی الله او توجه حق داثراتو کفارو اوحکامو هم قبلول شروع کړل. دحضرت مفتی اعظم زوم بابو عبد اللطیف صاحب حالاً منیجر ریاست وقف کرنال، په هغه دورکی دسرکاری ملازمت دپاره درخواست ورکی. ددغه منصب دپاره کاندیدان هم په کافی تعداد کی وه. بابوصاحب حضرت مفتی صاحب ته عرض وکی چه ددغه ځای دپاره زه هم امیدوار یم خو ددومره امیدوارانو په موجودګی معلومه نه ده چه کامیاب به سم اوکه نه؟ تاسي دعا وفرمایاست.

په دغه زمان کی دمظفرنګر اروپایی کلکټر مارش نومیدی دهغه په مخکی دټولو

باندی چه به مسافرین پریوتل. حضرت مفتی اعظم هم هغه ځای ته ورغی اوکښېناستی. ورسره منشی سعید احمد صاحب موصوف اوبعضی نور عزیزان هم وه. په خپلو کی خبری اتری هم کیدی، بیا بعضو لمونځ اوتلاوت شروع کی چه په هغه کی څه آوازونه لږ لوړ سوه، نو دسټیشن ماسټر چه هندو وو اومتعصب هم وو، په درد سره دخپل کور څخه راووتی دځان سره ږغیدی اوراغی دې حضراتو ته په سپورو ستغو سو چه نه بیدیږی اونه نور خوب ته پریږدی. دا دکم ځای لمونځ اوقرآن دی چه دخلګو پریشانه کولو ته راغلی یاست، درد ورغلی وو او عبثیات یې ویل. حضرت مفتی صاحب دهغه طرف ته اشاره وکړه اودومره یې وفرمایل: دی ځکه وینا کوی چه موږ وینا نه کوو. خدای خبر په دی جمله کی څه تاثیر وو چه هغه یخ سو او یودم داسی ولاړی چه بیایې نه خبره وکړه او نه راستون سو. اودی ټولو حضراتو پرهغه چیټایی باندی شپه په اطمینان سره تیره کړه.
الله والا په دی قوت دغنا او دیقین په طاقت سره چه کله تصرفات کوی نودا خو دنیوی خبره وه کمه چه ددوی په نزد هیڅ اهمیت نه لری، هم په دنیا کی اوسیږی اوآخرت یی هم ورسره ورسره ښائسته کیږی.

<u>**دوالد محترم اخری وخت او دهغوی توجه باطنی**</u>: هم دا منشی سعیداحمد صاحب ممدوح بیان فرمایلی وو کله چې دحضرت مفتی صاحب دوالدِ ماجد مولانا فضل الرحمٰن صاحب دانتقال ورځ راورسیده نو یوولسو بجوته نژدی پرهغوی باندی یو غیری معمولی تنګي او داضطراب کیفیت راغی، بې حده بی آرامه او مضطرب وو اوپر هیڅ اړخ باندي ورلره آرام نه ورتلی. دا چاته تصور هم نه وو چه آخری وخت یی نژدی راروان دی بیا هم په دی اضطراب باندی ټول کور بی آرامه اومتاثره وو.
مولانا فضل الرحمٰن صاحب به په ټول اولاد کی حضرت مفتی صاحب ته بغیر دلفظ د (مولوی) څخه هیڅکله هم خطاب نه فرمایی. په دی بی ارامی کی یې هم هغوی ته (منشی سعید احمد صاحب ته) وفرمایل چه مولوی عزیز الرحمٰن چیری دی؟ هغوی جواب ورکی چه اوس خو دلته وو. شاید ډوډی خوړلو لره کور ته تللی وی. وی فرمایل چه راوی غواړی! هغوی وایی چه زه یې رابللو لره کورته ورسیدم اودوالد دبیقراری ذکر می ورته وکی، اودا چه تاسو یی اوس راغوښتی یاست، حضرت مفتی صاحب دډوډی خوړلو دپاره ناست وو خو دراغوښتلو دلفظ په اوریدلو سره په هم دغه حالت کی راروان سو اوزما سره راغی والد چه یې ولیدی اواوس چه یی خطاب وکی نو په لفظ دمولوی سره نه بلکه صرف په عزیز الرحمٰن ویلو سره یی مخاطب کی اووی فرمایل چه عزیز الرحمٰن تا تراوسه پوری زما دپاره ګوته هم لوړه نه کړه. (شاید دامطلب یی وو چه دعا

دی ونه کړه) په دی خبره حضرت مفتی صاحب بی حده نادم اوشرمسار غوندی سو اوپه ژبی سره دخه غرض کولو پرځای یې دوالد دکټ سره اوړه ولګوله او کښېنستی اوپر سر باندی یی دستمال واچوی او څټ یی ټیټ سو یوڅو مینټه وروسته ولیدل سوه چه دوالد پرمخ باندی چې کمه بی آرامی اواضطراب وو هغه په سکون او طمانیت سره په بدلیدو سوه او آخر کار پرمخ باندی یی دومره زیات بشاشت راغی چه سترګی یی دآسمان طرف ته پورته کړی اوبی اختیاره یی خندل شروع کړل اوپه خندا کی یی خپلو صاحب زادګانو مولانا شبیر احمد صاحب عثمانی اومولانا مطلوب الرحمٰن صاحب ته خطاب وکی چه شبیره لړ خو وګوره دا لوړ چشي دی؟ او مطلوبه وخو ګوره دغه څه دی؟ اومخ یی انتهایي درجه منفرح اوبشاش وو خوشحالی یی دمخ څخه څڅیدله اوحضرت مفتی صاحب برابر مراقب او دهغوی طرف ته متوجه وو په هم دی حالت دبشاشت کی یی والد کلمهٔ طیبه وویله اویوڅو منټه وروسته یی روح دقفس عنصری څخه پرواز وکی.

ددی واقعی څخه دحضرت ممدوح دهغه غیر معمولی تصرف اوتوجه پته لګیږی کمه چه دمخلوق دکښتی په پوری ایستلو کی ددی بزرګانو څخه نمایان سویدي دهغوی شیخ (مولانا شاه رفیع الدین رحمه الله) ګواکي دهم نن ورځي دپاره ویلی وه چه یو زوی دالله ﷻ دپاره پریږده، دا هم هغه آثار وه کم چه هویدا سول او کیدل. په دغه تصرفاتو کی داخومره عجیب او غریب تصرف وو کم چه زوی دخپل شفیق پلار دپاره وښووی چه دهغه په وسیله یې دحق تعالی څخه نه یوازي دهغوی دوالد اضطراب اوبی آرامی په سکون او بشاشت سره بدله کړه بلکه دحسن خاتمی او مقبولیت اثار یې هم څرګند کړل او وی ښوول. فرحمهم الله تعالی رحمة واسعة.

دنسبت باطني آثار: ددی رفیع احوالو سره سره دنظمِ شریعت دادب اوتحفظ دا عالم وو چه ددفتری نورالحق صاحب دبیان موافق یوعجیب اوغریب صورت داپیښ سو چه دحضرت مولانا رفیع الدین صاحب رحمة الله علیه دوالد ماجد دقبر څخه دهري جمعې په شپه دقرآن شریف دتلاوت آواز اوریدل شروع سوه چه دهغه په خلګو کی آوازه خپره سوه او نتیجه یې داسوه چه دخلګو پردغه قبر شا اوخوا راګرځیدل شروع سوه، ټیلې شروع سوې هروخت به خلګو ګیره پر اچولی وه ددی قدرتی ثمره همدا کیدی سوه چه توجه الی الخلق به زیاتیده اوتوجه الی الله به کمیده اوهغه توکل چه په ظاهره به همه وخت دحق تعالی په مخکی وو، دقبر سره په لګیدلو باندي به منقسم کیدی. لکه څه رنګه چي ددغه ډول غیر عادی صورتونو ښکاره کیدو سره داقسم نتائج راښکاره کیږی او ډیرو بدعاتو ظهور هم کیږی.

حضرت مفتی صاحب دا خبره محسوس کړه اویوه ورځ یی دغه قبر ته تشریف یوووړی، پر مقرره وخت باندی هغه دتلاوت آواز واوریدل سو نو په دغه وخت کی حضرت ممدوح وفرمایل چه: ولی دی داخلګ په فتنه کی مبتلا کړی دی، ددی جملې په وتلو سره هغه آواز بند سو او بیا هیڅکله وانه وریدل سو.

څومره پیاوړی دی دا تصرف چه ژوند تیر سوی وی او برزخ ته رسیدلی وی اوپر قبر والاوو باندی هم مؤثر کیږی ګواکي دقبر والا خلګ په برزخ کی هم ددی مربیانو ددین دوعظ اوپند اوتنبیه شائق اوپر هغه باندی دعمل کوونکو دپاره مستعد اوسی، سبحان الله دداسی ارباب تصرف توجه تام به پردنیا والاوو باندی ولی مؤثره نه وی کله چه په ناسوتی ژوند ددنیا کی ددوی فیضان ددوست او دښمن ټولو دپاره یو ډول وی چه دهغه دبرکاتو څخه خپل اوپردی هیڅوک هم محروم نه سی پاته کیدی دنسبت باطنی دا روښانه آثار اوتصرفات کله دژبی دلاری څخه ښکاره کیږی کله دوعظ او پند دالفاظو دلاری څخه زړونو ته اثرات ورسیږی اوکله دهمت باطنی اوتوجه تام په لاری سره دا آثار او فیض ظاهریږی کله په نګاه سره اوکله په یوبل هیئت کذایی سره غرض دا چي څنګه چه موقع وی دهغه حال مناسب داحضرت دتصرفاتو صورت اختیاروی اونتائج مطلوبه سرته رسیږی.

مینه او شفقت یې: ماته یاد دی چی په سنه ۱۳۴۷ هـ کی چه زه دمخکنی حج څخه بیرته راغلم نو ددار العلوم طالبان ستیشن ته ماته راغلل په دی کی اکابر هم وه جمعیة الطلبة څه ښائستې جنډی جوړی کړی وی او دهغه سره یی اسقبال وکی خوکله چي تراوسه پوری دخپلو مشرانو دهرکلي په وخت او بالخصوص دحج دعبادت څخه دبیرته راتګ په وخت کی دا رواجی صورت ترنظر نه وو تیر سوی ددی وجه دطلباوو دمحبت باوجود داکار دهغه وخت په ماحول کی زما پر زړه باندی بد ولګیدی اودروند محسوس سو. په زړه کی می راتلل چه ددی رسمیاتو څخه دوی منع کړم، زما داکیفیت حضرت مفتی صاحب رحمة الله علیه چه خپل بزرګانه شفقت سره (چي پخپله یې هم ستیشن ته تشریف راوړی وو) په خپل باطنی فراست (زیرکتیا) سره محسوس کی اوهغوی ته داخیال سو چه هسی نه دی (احقر) ددی ناخوښی اظهار پردی موقع باندی وکی اودهغه پرطلبه ؤ باندی اودهغوی پرحوصلو باندی بد اثر هم پریوزی او ورسره دغه بد اثر بیرته راسی پخپله پرده (احقر) باندی هم پریوزی، زه دحضرت ممدوح دابزرګانه شفقت اوخیر خواهی اوورسره ددانایی کیفیت هیڅ عرض کولی نه سم چه په څه خوبی او خوبصورتی سره حضرت زه ددی ناخوښ صورت څخه بچ کړم طلباؤ ته خویې داوفرمایل چه تاسو جومات

ته ولاړسي موږ هلته درځو هغوی هاخوا ته ولاړل اوددی خوا حضرت مفتی صاحب ماته را ورسیدی اوزما پراوږه یی لاس کنبېښووی اووی فرمایل چه وروره! دوی په محبت سره راغلی دی درې څلور کلمات دشکریی ددوی په مخکی ووایه ددوی زړه به ښه سی، په دغه وخت کی ماته پرخپله غلطی باندی تنبیه وسوه په دې ډول جومات ته ورسیدم اودحضرت ممدوح په موجودګی کې، باوجود ددی چه دوینا همت می نه کیدی، لیکن ما تعمیلاً للارشاد دطلبه وو په مخکی دتشکر جملی وویلی چه په هغه باندی طلبه هم خوشحاله سول. او دکم بد اثر پریوتلو چه پر ما باندی حضرت ته احتمال وو دهغه څخه محفوظ سوم، په دی ساتلو او ژغولو باندی چه حضرت ممدوح ته کمه خوشحالی حاصله سوه کمه چه محسوسیده هغه هم دبیان کولو څخه وتلي ده هغوی ته خوشحالي ددی خبرې وه چه ددغه ټولو کشرانو خبره جوړه سوه اوچا دپاره دناخوښی صورت پیښ نه سو.

الله اکبر! دخپلو کشرانو دلداری دهغوی تحفظ او رعایت او دهغوی دخبری ساتلو خیال ددی اکابرو یو طبعی حال وو په کمو کي چه حضرت مفتی صاحب رحمة الله علیه ترټولو وړاندي اوممتاز وو.

دحضرت ممدوح رحمه الله مربیانه شان صرف ترخپلو کشرانو او متوسلینو او مسترشدینو پوری محدود نه وو بلکه پرخپلو هم عصرو اوپیر بهایانو (۱) باندي هم ددی اثرات ښکاره کیدل. مولانامحمد ابراهیم صاحب کراچوی دحضرت مفتی اعظم پیر بهایی وو څوك چه دحضرت مولانا رفیع الدین صاحب رحمة الله علیه څخه بیعت کوونکی او دهغوی دخلفاء مجازینو څخه وو صاحبِ تصرف بزرګ وو. دیوبند ته به یی تشریف راوړی او دحضرت مفتی اعظم سره به یی قیام کوی یو وار دیوبند ته راغی دار العلوم ته نژدی دیو شیدو والا دوکان وو چه دهغه سره ددی ممدوح څه معامله وسوه په دی سلسله کی دوکاندار یوه ورځ په بد اخلاقی سره دمولانا سره څه بد کلامی وکړه او ناموزون کلمات یی وویل چه په هغه باندی مولانا ته درد ورغی، دی خو صاحبِ تصرف وو دهغه پر دوکان یی یو تیز نظر واچوی نو دهغه ددوکان ټول سامان دانه دانه سو څه لوښی راولویده څه مات سول اوټول دوکان ګډ وډ سو چه په هغه سره دوکان دار هیبت زده سو او بې دمه پاته سو او مولانا دوکان دړې وړې کړی او قیام ګاه ته راغی حضرت

---

(۱) هغه کسان چي دیوه پیر سره یې په بیعت کولو کي ګډون کړی وي یو له بل سره پیر بهایان (یعني په یوه پیر کي دشراکت دلحاظه ورونه) بلل کیږي. حقاني ؒ

مفتی صاحب رحمة الله علیه چه واوریدل نو دمولانا محمد ابراهیم صاحب داطرز عمل ورباندی سخت ناخوښه ولګیدی او وی فرمایل چه مولانا ته دلته ولی راغلی یی زما سره څه پراته دی یوطالب علم یم دویلو اولوستلو شغل می دی او تاسی ماشاء الله پخپله صاحب تصرف یاستئ بیا ستاسو یوځای تلو راتلو ته څه ضرورت دی اوزمونږ غوندی خلګو سره دتم کیدلو آخر حاجت څه دی ستاسو سره هرڅه موجود دی. داخبری یی دناخوښی په لهجه کی وفرمایلی. ګواکي لارښوونه یی وکړه او ورته ویی ښوول چه اهل الله ته دتصرف طاقت ددی دپاره نه ورکول کیږی چه هغوی دمخلوقِ خدا سره انتقامی بدله اخیستل په عمل کی راولی اوپه خپلو جذباتو سره دهغوی تخریب کوی اودخپلو تصرفاتو طاقت وښیی. په دی باندی مولانا ممدوح پښیمانه سو توبه یی وکښل ددی ځای څخه ولاړی او هغه دوکاندار څخه یی معافی وغوښته. دحضرت ممدوح دوفات په شپه دحضرت مولانا حبیب الرحمٰن صاحب اونورو بزرګانو په معیت کی زه هم دحضرت ممدوح خواته حاضر سوم. آخری وخت یی وو خو حواس یی بالکل قائم وه چه زه یی ولیدم نوسترګی یی داوښکو څخه ډکی سوی اوپه شفقت سره یی لاس پرسر راکښېښوی اومحبت یی وکی اوڅه دعائیه کلمات یی هم وفرمایل کم چه ما وانه وریدل او په پوه نه سوم.

ددار العلوم دکتابت داستاذ مولانا اشتیاق احمد صاحب څخه ما دا واقعه اوریدلی ده چه مولانا طفیل احمدصاحب (څوك چه دسلسلی نقشبندی یی په بزرګانوکی اوددار العلوم دیوبند دفضلاوو څخه دی اونن صبا په کراچی کی دافادی او افاضی ستر کار کوی) وفرمایل چه ما دمفتی اعظم قدس سره دوفات څخه وروسته هغوی په خوب کی ولیدی چه حضرت ممدوح په یو نهایتی پُرِ فضا مقام کی دی اونهایتي بشاش اوپه بهترینو حالاتو اومقاماتو کی دی. دخپل عادت سره سم په اخلاقو اوشفقت سره یې راسره ولیدل اولږ ساعت وروسته ولاړسو اووی فرمایل چه: داوخت ددربار دحاضری دی په دی وخت کی په موږ دیدار کیږي په دی وخت کی زه هلته ځم دایی وویل او تشریف یی یوووړی.

دباطني تصرفاتو یوڅو پیښي: دهغوی تصرفات به بعضی اوقات نهایتی خلاص خلاص وه چه هغه به صاحب معامله په واضحه طریقه باندی محسوسول. دمنشی سعید احمد صاحب بیان دی چه په کوروالاوو کی به چی هرڅوك په یوقسم تکلیف کی اخته سو یا به څه حادثه پیښه سوه اوپه اخته کیدلو سره به یې اهلِ خانه پریشانه سوه ، خوچه کله به دمفتی صاحب په خدمت کی خپله پریشانی پیش سوه او دضیقِ قلب (دزړه تنګي) اظهار

به وسو نوپه یوځو جملو سره به یې داسې ازاله وفرمایله چه خلګ به ورغلل دتکلیف سره او بیرته به راغلل په طمانیت او بشاشت سره.

دمولانا اشتیاق احمد ممدوح بیان دی چه زه په یو باطنی حالت کی مبتلا سوم اوکه چیري هغه څو ورځی راباندی دغه رکم پاته سوی وای نوزه به په سخت نقصان اوخسران کی اخته سوی وم اوزه په دغه حالت کی دحضرت مفتی صاحب په مخکی حاضر سوم اوخپل حالت می پیش کی وی فرمایل چې دا اسم ووایه، ما عرض وکی چه حضرت دعاء وفرمایاست وی فرمایل چې دعاء خو به هسی هم وکړم درته خو ته دا ووایه ، مولانا اشتیاق احمد صاحب فرمایی چه ما هغه اسم ووایه اوزما حالت کرار پُرِ سکون سو اوهغه ټول کیفیتونه چه پریشان کوونکي وه ټول زائل سوه.

دمولانا ظهور احمد صاحب مدرس دارالعلوم بیان دی چه حضرت مفتی اعظم رحمه الله په خپلو ښکاره تصرفاتو سره دخپل علاتی ورور مولانا مطلوب الرحمٰن عثمانی صاحب ډیره زیاته دستګیری وفرمایل او دمتعددو هلاکوونکو پیښو څخه یې هغه په خپلو تصرفاتو سره ژغورلی اوبچ کړی دی، په یوه زمانه کي په دیوبند کی یوه فتنه چه هغې ته شعبده ویل په کاردی داحیاء موتی (مړو را ژوندي کولو) پیښه سوه، بعضو متصوفینو په ظاهره دمړو مرغانو درا ژوندی کولو نمائش وکی چه په هغه کی مولوی صاحب ممدوح هم اخته سو حضرت مفتی صاحب ته چه معلومه سوه نوددغه صنعت ګری پرده یې څیری کړه اومولوی صاحب موصوف یې ددی مهلکی څخه خلاص کی په کم سره چه دهغه حالت سم سو.

بهر حال دغه رکم واقعات به کله په دنیاوی معاملو کی ښکاره کیدل اوکله به دتړل سوو ځایونو څخه دایستلو په سلسله کی صادریدل اوکله به دباطنی مدارجو (ځینو) دوهلو په باب څرګند سوه اوپه کثرت سره به مخ ته راتلل.

ددار العلوم دمختلفو اطرافو طلبه او کارکنان به په ډیر شمیر دحضرت ممدوح دبیعت په سلسله کی شامليدل او دقلب (زړه) دصفایی دولت به یې حاصلوی اوپه دی ډول دهغه سلسله دهندوستان په اطرافو کی خپره سوه.

غرض داچې په علم اوعمل اوحال اومقال کی دحضرت ممدوح هستی ددار العلوم په اکابرو کی یوه ډیره دفخر کولو وړ هستی وه که چیري ددی اکابرو په ژوندکی مو داخیال وای چه دوی به یوه ورځ زمونږ څخه واخیستل سی اوپه دی خیال مو دهغوی دحالاتو دقلم بند کولو طرف ته پاملرنه سوی وای نوددغو بزرګانو قدم په قدم داستقامت اوکرامت دومره پیښي وي چه مونږ خلګو به دهغو څخه صفحی صفحی ډکولی او داسی

دزمانې نادره واقعات به مو په زرګونو قلمبند کړی وای لیکن دده محترم په موجودوالی کی کله هم داتصور نه راتلی چی یوه ورځ به هغه نه وی اوموږ به هغه وخت دافسوس لاسونه مروړو چي ولي مو دهغوی علمي او عملي تګلاري او کارنامې قلمبندي نه کړي، چی دهغوی دنقش او قدم مو ملګرتیا کړی وای.
دا یوڅو واقعات چه په قلم راپورته کولو سره په بی ساختګی ډول سره ولیکل سول، نه سوانح دی اونه تاریخ یوازي دیوې تذکرې حیثیت لری چی دزړونو دتسلی دپاره قلم ته سپارل سوی دی خدای پاك دی وکړی چی یو باخبره او باهمته پردی باندی اضافه وکړی اودا خواږه یادونه نور هم اوږده کړی ولي چه دمحبوبانِ الهی ذکر په خپله محبوب او دشکرو خوند لرونکی وی.
وفات: حضرت ممدوح په ۱۷ دجمادی الثانی سنه **۱۳۴۷**هـ مطابق داول دسپتمبر دشپی پر دوې بجی داعی داجل ته لبیك ووایه اودخپل مولای حقیقی سره یوځای سو دورځی پر ۱۰بجی ددار العلوم په احاطه مؤلسری کی دهغه دجنازی لمونځ حضرت مولانا سید اصغر حسین رحمة الله علیه ورکی او (۱۱) بجی ددار العلوم په قبرستان کی خاورو ته وسپارل سو. طاب الله ثراه وجعل الجنة مثواه.
به هرحال دهغه ذات جامع اوصاف اوجامع علوم وو دعلم سره سره ډیر پراخوالی او حذاقت او ژوروالی یې دافتاء سره سره ددار العلوم دیوبند داوږدې مودې دتعلیمی خدمت په وسیله پیدا کړی وو، ذکاوت او ذهانت دهغه خاندانی میراث وو، ددې وجه په فقاهت اوتفقه فی الدین کی دده سربلند کیدل دتعجب خبره نه وه، داخلاقو لوړوالی دحضرت اقدس مولانا شاه رفیع الدین صاحب دیوبندی قدس سره مهتمم ثانی دارالعلوم دیوبند دصحبت اوپه مجلس کی دناستي او استفادی ثمره وه اوپه دی شان هغه په علم اوعمل، اخلاق اوملکات، معرفت اوبصیرت، اودفقاهت اودرایت په بی مثله شخصیتونو کی یو دلوړی پایی شخصیت وو په کم سره چی ددار العلوم دیوبند دارالافتاء ته زینت ورکول سوی وو.
دحضرت دفتواو تعداد: افسوس دی چی دده دلیکل سوو ټولو فتواو مکمل ریکارډ موږ ته په لاس رانغی اصل وجه داده چی ددار الافتاء په ابتدایی دور کی دریکارډ اوذخیره کولو کم خاص دستور نه وو ځکه چی دسنه۱۳۱۰ هـ څخه تر ۲۱\ ذیقعده سنه ۱۳۲۹ هـ پوری دشلو کالو دهیڅ ریکارډ دافتاء په دفترکی نه موجودوالی ددی واضح دلیل دی ددی څخه وروسته دنقل فتاوىٰ په طرف ضرور توجه وسوه مګر دریکارډ اوپه دفتری طور دذخیری دساتلو طرف ته بیا هم کمه خاصه توجه نه کیده، ځکه چی دسنه ۱۳۳۰هـ

څخه تر سنه ۱۳۴۲ هـ پوری په درمیانی مدت کی دبعضو کلونو رجسټر نقول فتاوٰی په لاس نه دی راغلی نه سی ویل کیدی چی آیا هغه په عالم وجود کی نه وه راغلی یا محفوظ سوی نه دی اوبیا داسی ولی وسوه؟ البته ددغو بعضو سنینو څخه علاوه دسنه (۳۰) څخه تر (۴۲) پوری دحضرت مفتی اعظم دلیکل سوی فتاوٰی چی کم مکمل ریکارډ دافتاء په دفتر کی محفوظ دی په دی کی د (۳۷۵۲۱) په تعداد (۱) کی فتواوی په لاندی ډول مرقومي دی:

دحضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب مفتی اعظم دار العلوم دیوبند دفتواوو تفصیل

پیل یی: ۲۲ ذیقعده سنه ۱۳۲۹ ہجری قمری... پای یی: ۸ درجب سنه ۱۳۴٦ ہجری، یعنی ۱۵ کاله او ۸ میاشتی

کال	دفتواوشمېر	کال	دفتواوشمېر	کال	دفتواوشمېر
د۲۳ ذیقعده ۱۳۲۹ څخه تاآخر	۳۰۲	سنه ۱۳۳٦هـ	۲۱۲۲	سنه ۱۳۴۲ هـ	۳۲۰۱
سنه ۱۳۳۰	۱۷۱۹	سنه ۱۳۳۷ هـ	۲۸۲۳	سنه ۱۳۴۳تر ۱۳ دذیقعده	۲۸۸۲
۱۴ درجب تر ختم د ۱۳۳۲هـ	۸۴۵	سنه ۱۳۳۸هـ	۲۳۴۸	۲ صفر ۱۳۴۴ تراخر پوري دکال	۱۰۷۰
سنه ۱۳۳۳ هـ	۲۰۲۷	سنه ۱۳۳۹ هـ	۲۹۹۸	سنه ۱۳۴۵ هـ	۳۲۳۲
سنه ۱۳۳۴ هـ	۱۹۴۳	سنه ۱۳۴۰ هـ	۲۹۵۰	سنه۱۳۵۲۸رجب	۱۷۲۱
سنه ۱۳۳۵ هـ	۱۹۹۴	سنه ۱۳۴۱هـ	۲۸۹۲	ټولټال	۳۷۵۲۱

دایوازي دحضرت مرحوم دپنځلس کلونو دفتاوٰی تعداد دی چی تر ریکارډ لاندی محفوظ دی افسوس دی چی ددوه ویشتو ۲۲ کلونو خدمت خو دذخیری دکاغذ پرمخ نه پیدا کیږی که چیری په دغه تناسب سره چی دپورتنی نقشی څخه واضح دی دڅلویښتو ۴۰ کالو یوه سرسری اندازه ولیکل سی نوکم اوزیات یولك اتلس زره فتاوی کیدل په کاردی چی دحضرت رحمة الله علیه په قلم مبارك پرصفحه قرطاس باندی رسم سویدی اودیوه جلیل القدره مفتی دفضائلو اومناقبو دپاره دا ویل کافی فضیلت اوممتاز منقبت دی چی هغوی په یولك اتلس زره مقبول فتاوی سره دعالم اسلامی دایمان او اسلام

(۱) داتعداد دمستفتی حضراتو په اعتبار سره دی یعنی دومره پاڼی او کارډونه موصول سوی دی، کنې نو داسي لفافه یاکارډ نسته په کم کی چی متعدد سوالات نه وی الا ماشاء الله، که اوسطاً په هره لفافه کی دری سوالونه ومنل سی نو دغه تعداد یو لك دولس زره شپږ سوه دري اتیا (۱۱۲۲۸۳) کیږی. مرتب

دتحفظ خدمت کړی دی، په کم کی چی ډیری فتواگاني دمحاکمی اوفیصلی حیثیت هم لری.

دفتاوی ترتیب: دفتاوی دابی نظیره مجموعه او دفقهی مسائلو دا بی مثاله ذخیره په بطون داوراقو کی محبوسه اودعامو نظرونو څخه پټه وه ددغه فتواوو څخه یوازي مستفتیونو په خپل خپل وخت کی فائده اخیستی وه نورو طالبانو ته درسیدو کم صورت نه وو اوپه دی ډول نفع محدوده او خاصه پاته سوی وه دجذباتو په درجه کی څو واره دا اراده پیدا سوه چی دا بې مثله ذخیره اوددار العلوم دغه باقیات صالحات دعامو نظرونو په مخکی راوستل سی لیکن اسباب مساعد نه سوه. بالآخره په سنه ۱۳۲۷ھ کی دلکنو دیوسفر په دوران کی دحضرت مولانا منظور صاحب نعمانی مدیر (الفرقان) لکهنو اوممبر مجلس شوری ددار العلوم، سره اتفاقا ملگرتیا په ریل گاډي (اورگاډي) کی وسوه اوممدوح په حسن اتفاق سره ددی ارادې اظهار وکی چی داحقر په زړه کی دمخکي څخه په څپو وه، ددوو رایو دمجموع کیدو څخه په قدرتی طور په اصلي رأی اوجذبه کی قوت پیداسو احقر په دغه تفصیل دا رایه په طور داستشار ددی دور دشیخ الافتاء حضرت مولانا محمد اعزاز علی صاحب مرحوم په مخکي کنبښول هغه نه یوازي داچی ددی رأی سره یی اتفاق وفرمایی بلکی دیته یی یو الهامی تجویز وفرمایل اوزما یی کافی حوصله افزایی وکړه په کم سره چی درأی دقوت سره سره په دی باره کی عزم دعمل کولو هم پیداسو اواحقر یو باضابطه لیك دار الافتاء ته ولیږلو او دترتیبِ فتاوی کار یی ورباندی شروع کی.

الحمد الله چی دلږ مودی څخه وروسته دترتیب فتاوی یو معتد به ذخیره په طور دنمونې داحقر مخ ته راوستل سوه دعمل یوه نمونه مخ ته په راتلو باندی احقر دغه خیال دمجلسِ شوری دار العلوم په مخکي کنبښنووی، مجلس دډیري حوصله افزایی سره سره دا فیصله وکړه چی دفتاوی ددی ذخیرې دمزید ترتیب اوتفصیل دپاره دي یوه مستقله شعبه دترتیبِ فتاوی قائمه سي او دیوه مستقل مرتبِ فتاوی منظوری یې ورکړه ، په دی دورکی څو مرتبین دفتاوی یو په بل پسي وروسته کیدل اوکار ورباندی جاری وو بالاخره ددی سلسلې انتهاء پرجناب محمد ظفیرالدین صاحب زید مجده باندی وسوه اوهغه یی په نه ستړی کیدونکو او چټکو کوششونو سره شروع وکړه، دترتیبِ فتاوی کار ته یې په حسن اسلوب سره انجام ورکول شروع کړه چی نن په خپل مرتب صورت کی دناظرینو په مخکی موجود دی اومورِ ددی دطباعت او اشاعت سعادت حاصلولو او ان شآء الله چی دټولو ټوکونو او جلدونو په پوره کولو سره به دانورانـــی ذخیره دناظرینو په

خدمت کی وړاندي کوو.
دترتیب په سلسله کی مرتب کوونکو ته دکافی مشکلاتو سره مخامخ کیدل راغلل په کم کی چی دناقلینو غلط نویسی ترټولو غټ مشکل اوسخت ترین مصیبت دی دکم حل چی کافی محنت غواړی مگر چونکه مرتبین پخپله علماء او فضلاء دی او دیو علمی جماعت په نګرانی کی دترتیب کار سرته رسیږی نوځکه امید دی چی پر دغه ټولو مشکلاتو باندی به ان شاء الله عبور حاصل سی، کار دباری تعالی په مرسته پرخپله لاره باندی روان سویدی چی خپله لاره یی پخپله ایستلی ده امید دی چی ډیر ژر به دفتاوٰی دغه ټوله ذخیره به دلیدونکو او لوستونکو ومیدان ته راسی او لکه څنګه چی فتاوٰی عالمګیری دقدیم هندوستان په قانون کی ځای پیدا کړی وو په دی ډول امید دی چی فتاوٰی دارالعلوم به دجدید هندوستان په قانونِ زندګی کی روح جوړ کړي او وبه چلیږی ځکه چی په دی کی دهری شعبی دژوند سره داړوندو احکامو ذخیره جمع سویده.
دفتاوٰی دنفع دعام کولو دپاره دابوابو اوفصول ترتیب قائم سو، هره هره مسئله یې په متعلقه باب اوفصل کی ایښوول سویده ترڅو داحکامو داستخراج په وخت کي طالبانو ته خنډ پیښ نه سی اوعوام اوخواص یو ډول ددی څخه فائده حاصله کړی، البته مکررات حذف سویدی.
دفتاوٰی څخه دګټي ترلاسه کوونکو حضراتو څخه غوښتنه ده چی دا ناکاره خلائق او دفتاوٰی مرتبین اومنتظمین په خپلو مخلصانه دعاګانو کی یاد وساتی، وبالله التوفیق.

احقر عباد الله **محمد طیب** غفر له (رحمه الله تعالیٰ رحمةً واسعةً) مهتمم دار العلوم دیوبند
۵\ جمادی الثانی \ سنه **۱۳۸۱ھ**



بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم

سریزه

دحضرت مولانا مفتی محمد ظفیر الدین صاحب ، ددار العلوم دیوبند دفتاوی مرتب

الحمد لله وکفٰی وسلام علٰی عباده الذین اصطفٰی، زمونږ ددی څخه انکار نسته چي موجوده دور دعلم او فن، تحقیق او تدقیق اونوو انکشافاتو په میدان کی ډیر مخ ته تللی دی مګر ددې سره ددې خبري په اظهار کی هم ذره برابر تذبذب نسته چی دنیا دنظام حیات څخه ډیره لیري تللی ده، ددې ورځ نه ده چی انسانانو ته انسانیت وروبخښی اوپه انسانی مجد او شرف سره یی سرلوړي کوی.

دادرسته ده چی انساني دماغو فضاء محکمه کړیده. دمځکی دسینی په څیری کولو سره يې دهغې خزانی رابهر کړیدی داهم واقعیت دی چی نوو ایجاداتو ددنیا سترګی برېښولی دی او دانسان جد وجهد خپل شباب ته رسیدلی دی لیکن ددی سره ددی څخه هم انکار نه سی کیدی چی اوس وخت نه داخلاقو او داعمالو پاکوالی باقی پاته دی نه دعقائدو او دمعاملاتو پختګی، نه په زړونو کی داخلاص او دللهیت رڼا پاته ده او نه په سینوکی دامانت اودیانت روښنائی، مختصر داچی انسان چي هر څه دی خو دآدمیت څخه په میلونو لیری دی.

داسلام دین او دهغه اغراض او مقاصد: هرڅوك په ښه ډول سره پوهیږی چی اسلام دباری تعالی آخری اومکمل دین دی دکم دتکمیل اعلان چی په قرآن پاك کی موجود دی دادمځکی پرمخ ددې وجه راغلی دی چی ټول کائنات پرهغه خدایی نظام وچلوی اوهغه ګوښه رابرسیره کړی چی انسانان په فضل اوکمال شرف اومکرمت یکجهتی اویك طرفي اوداخوت اودمحبت په لازوال دولت سره سر لوړي کړی اوپه دی سره انسان دانسانیت اودهغه له غوښتونو څخه دیوی لمحی دپاره هم بیل اوجلا نسی کم چی ددی ترټولو ښکاره دامتیاز نښانه ده.

رب العالمین ددی عظیم الشان (نظام حیات) دبقاء دپاره دقرآن مقدس کتاب په شاني کتاب نازل کی او ترقیامت پوری یی ددی دحفاظت اعلان وفرمایی او بیایی رحمت عالم ﷺ یو پاك خویه اوبرګزیده رسول اومعصوم معلمِ کائنات جوړ کی اومبعوث یی وفرمایی او دختم نبوت په تاج یی سرفراز کړی ددې وجه چی په پوره اطمینان سره

دهغوی په تعلیم او تبیین اوتزکیی او تطهیر او دهغوی په وړاندي سوی تګلاره باندی ایمان راوړی اودخپل ژوندانه محور اومرکز یی وګرځوی اوپه دی ډول انسان هغه منزل مقصود ته ورسیږی کم چی دهغه دژوند دپیلیدو اصلي علت دی.

په اسلامي نظام حیات باندی عمل دصحابه ؤ ﷺ په دور کی: دصحابه وو ﷺ ترزمانی پوری دغه نظام دفکر اودنظر څخه ورتیر وو په عمل اوهرحرکت اوسکون کی جاری اوساری وو افتاب نبوت اګر چی مخ پټ کړی وو خو دهغه په ګرمی سره سینی هم هغه رکم معموری وی جمال نبویﷺ دسترګو څخه فنا سوی وو لیکن ددیدارِ نبوی ﷺ جامونو چی کمه نقشه پیدا کړی وه په هغه کی هیڅ کموالی نه وو راغلی بلکی دکیف اودمستی هم هغه عالم وو چی هر طرف ته وګوری اوهر چیري نظر وکړی دحورو په شان پاك زړه اودفرښتو په شان تقدس دځانونو قربانی ورکولو ته تیار وو، لیکن دایمان دشعبو په څانګو کی دیوې ښاخ دمړوالي دیوې لمحی دپاره برداشت نه وو صحابه کرام ﷺ دحضور ﷺ داعمالو او داقوالو ګرځنده نمونی وی دهغوی هیڅ یوحرکت دنبوی اخلاقو خلاف نه وو، اوکه ریښتیا وینا غواړی نو کتاب اوسنت داسی زړه روښانه کوونکي شمعی وی چه په هغه سره ټوله آبادی بقعۀ نور (دروښنایی خونه) جوړه سوی وه.

دفقهی دتدوین ضرورت: مګر څومره چی انسان ترقی کوله دهغه ضرورتونه ډیریدل او خپریدل بیا داسلامی حکومتونو پراخیدونکو حدودو نوی نوی مسائل رامخ ته کړل بلي خوا په مزاجونوکی په ډیری تیزی سره انقلاب راغلی وو اوهغه شپه او ورځ دپراختیا په حال کی وه، سوز او ګداز، ساده زندګی او ساده دِلي چی دصحابه کرامو رضی الله عنهم خاص خوی وو دا دختم کیدو په حال کی وو، نو ددې وجه دحالاتو غوښتنه وه چی دقرآن اودسنت تعلیمات په یونوی ډول کی وی، په کم چی عالم اوجاهل، ذهین او غبی، عربی اوعجمی، ښاری او کلیوال هریو په اسانی سره پوهیدلی سی اوکم مسائل چی صراحةً په کتاب اوسنت اواقوال دصحابه کرامو کی موجود نه وی دعلماوو په باهمی غور اوفکر اوبحث او تمحیص سره باید مستنبط سی ترڅو راتلونکی نسلونه دپریشانی سره مخامخ نه سی او دکتاب اوسنت په رڼا کی په تیزه کامیابی سره روان سی اوپه دی سره دهغه عجلت پسندو اوآساني غوښتونکو طبیعتونو دتلاش اوپلټني دمشقت څخه محفوظ پاته سی.

دفقهی تدوین او حضرت امام ابوحنیفه ﷺ : داخو هرچاته معلومه ده چی اسلام یوهمه ګیر، وسیع اودائمی نظامِ حیات دی اودی دخپل دغه امتیازی شان دهمه ګیری اودوامی حیثیت دبقاء په خاطر په خپل ځان کی داسی پراخوالی او وسعت اینبی دی چی په هر

دور اوپه هر ځای کی دانسان دضروریاتو سره ملګرتیا اوپه یوه منزل کی هم دخپلو پیروانو درهبری څخه نیمګړی پاته نه وی.

چنانچه ربانی علماؤ ددغه ضرورت احساس وکی اوددې وجهې باضابطه دټولو څخه مخکی سراج الامة حضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اماده سو او هغه دخپل وخت دعلماءِ کرامو یوداسی معقول تعداد جمع کی په کموکی چی دهر علم اودفن ماهرین شریك وه اوکم چی په خپل علم اوفن کی دبصیرت اومهارت سره سره دزهد، تقوٰی، خداترسی، فرض شناسی اودنورو ښو اخلاقو او ښیګڼو لرونکي وه.

پخپله حضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کم ته چی ددغه مجلس دعلماؤ دصدر حیثیت حاصل وو ددغو ټولو کمالاتو او فضائلو جامع وو دکمو چی په دغه ډول دینی کارکی ضرورت وی ددغه زمانی یو داسی دینی مکتبِ فکر نه وو دکم څخه چی هغه رحمة الله تعالی علیه په وینبو مغزو سره استفاده نه وی کړی دزرګونو محدثینو اودشیوخو څخه یې فیض ترلاسه کړی وو کم او زیات دڅلورو زرو تابعینو، علماؤ اومشائخو څخه هغه علم حاصل کړی وو.

دتابعیت شرف: بیا پخپله هغه ته هم دتابعی کیدو شرف حاصل دی دبعضو روایاتو مطابق په کمه زمانه کی چی هغوی په کوفه کی پیدا سویدی زیات صحابه کرام رضی الله عنهم هلته موجود وه اوپه دی کی خو هیڅوك شبهه نه کوی چی بعضی صحابه کرام رضی الله عنهم هغوی لیدلی وه اوډیر زیات صحابه کرام په مختلفو ښارونو کی دغه وخت ژوندي وه.

اما روایة الانس وادراکه لجماعة من الصحابة بالسن فصحیحان لاشك فیهما. الخیرات الحسان ص **۲۵**.

دهغه یعنی دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه دحضرت انس رضی الله عنه څخه روایت کول او دصحابهٔ کرامو رضی الله عنهم دیوې ټولۍ زمانه پیدا کول دواړی خبری صحیح دی او دشك او دشبهی څخه پاکی دی.

امتیازی غوره والی: داشرف داسی وو چی په کم کی هیڅ یو هم عصر دهغه سهیم اوشریك نه وو بلکه دغه امتیازی شان په دغه وخت کی یوازې هغه ته حاصل وو.

وفی فتاوی شیخ الاسلام ابن حجر انه ادرك جماعة من الصحابة کانوا بالکوفة بعد مولده بها سنة ثمانین فهو من طبقة التابعین ولم یثبت ذلك لاحد من ائمة الامصار المعاصرین کالاوزاعی بالشام والحمادین بالبصرة والثوری بالکوفة ومالك بالمدینة الشریفة واللیث بن سعد بمصره. الخیرات الحسان ص **۲۳**.

دشیخ الاسلام ابن حجر رحمه الله په فتاوٰی کی صراحت دی چی هغوی یعنی امام ابوحنیـفه رحمة

الله علیه ددې صحابه کرامو رضي الله عنهم یو جماعت لیدلی وو وروسته تر زیږیدني دده په کوفه کی دهجرت په اتیایم ۸۰ کال، نو ددی وجهی څخه دهغه رحمه الله شمار په تابعینو کی دی دا داسی شرف دی چی دهغوی په معاصرینو کی هیچاته حاصل نه دی لکه چی په شام کی اوزاعی په بصره کی دوه حماده، په کوفه کی امام ثوری په مدینه کی امام مالك او په مصرکی لیث بن سعد، په دوی کی یوتن ته هم دتابعی کیدو شرف حاصل نه دی.

دامام اعظم رحمة الله علیه حیثیت: څلور امامان دکمو مذاهب چی داوخت په دنیا کی رائج دی په هغوی کی امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په خپل علم اوفضل اوسن اوسال کي ترټولو مقدم دی او بالواسطه یا بلا واسطه ټوله ائمه دهغوی رحمهم الله څخه فیض یافته دی.

ألا من اشتهرت مذاهبهم ... هم اربعة ابوحنیفة ([1]) بالکوفة ومالک واحمد والشافعی واولهم الاول ویعاصره الثانی وقیل روی الاول من الثانی وقیل بل الثانی تلمیذ للاول والثالث تلمیذ الرابع والرابع تلمیذ للثانی ولبعض تلامذة الاول. (مقدمة الفوائد البهیه ص۷).

کمو مذاهبو چی شهرت حاصل کی، هغه څلور امامان دی: ۱. امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ۲. امام مالك رحمة الله علیه ۳. امام احمد رحمة الله علیه ۴. امام شافعی رحمة الله علیه ، په دغه څلورو کی اولنی یعنی امام ابو حنیفه رحمة الله علیه مقدم دی اودوهم یې هم عصره دی یعنی امام مالك رحمة الله علیه اوچا دا ویلی دی چی اول یعنی امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ددوهم یعني امام مالك رحمة الله علیه څخه روایت کړی دی او دبعضو بیان دادی چی دوهم یعني امام مالك رحمة الله علیه داولنی امام ابو حنیفه رحمة الله علیه شاګرد دی اودریم امام احمد رحمة الله علیه دڅلورم امام شافعی رحمة الله علیه شاګرد دی اوڅلورم امام شافعی رحمة الله علیه ددوهم امام مالك رحمة الله علیه او داولنی امام ابو حنیفه رحمة الله علیه دبعض شاګردانو شاګرد دی.

ددی حاصل داسو چی امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه پردغو څلورو سرو مقدم دی اودڅلورو سرو څخه دهغوی هم عصر یوازي امام لك رحمة الله علیه دی چی ددوی څخه پنځلس کاله کشر وو بیا دبعضوعلماؤ دتاریخ دبیان مطابق امام مالك رحمة الله علیه دهغوی

([1]). امام ابوحنیفه رحمه الله په سنه ۸۰ هجري کی پیدا سوی دی، امام مالك رحمه الله په سنه **۹۵** هـ کی. امام شافعی رحمه الله په سنه **۱۵۰** هـ کی اوامام احمد رحمه الله په سنه **۱۲۴** هـ کی. ددی حاصل دا سوه چه دامام ابو حنیفه رحمه الله څخه پنځلس کاله وروسته امام مالك رحمه الله پیداسو. او اویا کاله وروسته امام شافعی اوڅلور اتیا کاله وروسته امام احمد رحمهم الله . (الاکمال فی اسماء الرجال).

په شاګردانو کی دی اودا خبره په عقل کی هم راځی ځکه چی دی په عمر کي دهغه څخه کم وو او په دی کی خو قطعا شبهه نسته چی امام شافعي رحمة الله علیه دامام مالك اودامام محمد رحمة الله علیه وغیره شاګردان دی اودنیا پوهیږی چی امام محمد رحمة الله علیه دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه رشید شاګرد وو او دبعضو علماؤ دقول مطابق امام مالك رحمة الله علیه هم دامام اعظم رحمة الله علیه شاګرد پاته سو، امام احمد رحمة الله علیه دامام شافعي رحمة الله علیه شاګرد دی. دغه رکم دغه سلسله هم دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه سره یوځای کیږی اوامام شافعي اوامام احمد رحمهما الله دامام اعظم رحمة الله علیه څخه په عمرکی ډیر کشران وه اوددوی پیدائش دهغه رحمه الله دوفات څخه وروسته دی په دوی کی اولنی یی دامام اعظم رحمة الله علیه څخه اویا کاله کشر دی اودا بل څلور اتیا کاله.

امام اعظم رحمة الله علیه ته دیوه طرف څخه دتابعي کیدو شرف حاصل دی چی په هغو نورو درو امامانو کي یوه ته هم حاصل نه دی اوبل طرف دهغو ټولو څخه مشر هم دی.

ملا علی قاری رحمة الله علیه دهغوی ددغو فضائلو اومناقبو په اړه تحریر فرمایی:

الحاصل ان التابعين افضل الامة بعد الصحابة فنعتقد ان الامام الاعظم والهمام الاقدم ابو حنيفه افضل الائمة المجتهدين واكمل الفقهاء في علوم الدين ثم الامام مالک فانه من اتباع التابعين ثم الامام الشافعي لكونه تلميذ الامام مالک بل تلميذ الامام محمد، ثم الامام احمد بن حنبل فانه كالتلميذ للشافعي. (شرح فقه اکبر ص۱٤٦).

حاصل دادی چی دتابعینو درجه په امت کی دصحابه کرامو رضی الله عنهم څخه وروسته دټولو څخه لوړه ده ددی وجی څخه زموږ عقیده ده چی دامام اعظم، همام اقدم ابوحنیفه رحمة الله علیه مرتبه په ائمۀ مجتهدینو کی دټولو څخه لوړه ده او ددین دعلومو په فقهاؤ کی دټولو څخه لوړ او اکمل دی دهغوی څخه وروسته دامام مالك رحمة الله علیه درجه ده چی دتبع تابعینو په صف کی دی بیا دامام شافعي رحمة الله علیه ځکه چی هغه دامام مالك بلکی دامام محمد رحمهما الله شاګرد دی اوبیا دامام احمد رحمة الله علیه څوك چی دامام شافعي رحمة الله علیه دشاګرد په درجه کی دی.

دعلم او دفن دماهرینو جماعت: ددغه مختصر تفصیل مقصد دادی چی صدر مجلس (امام اعظم رحمه الله) به په خپلو محاسنو اومناقبو کی ډیر لوړ مقام درلودی چنانچی هغوی دکتاب الله او دسنت اودلغت او محاورو دهغو ماهرینو بانیینو علماؤ په ملګرتیا سره داسلامی نظام دفعات مرتب کړل اوداصولو اودفروعو نقشه یی تیاره کړه اوپه دی ډول په دی دینی اوعلمی پارلمان کی ټولو په وسعت نظری سره پریوه یوه مسئله باندی غور

وکی اوکه دبحث اومباحثی تحقیق اوجستجو ضرورت به پیښ سو نو دهغه څخه به یی هم مخ نه اړاوه.

دفقهي په تدوين کی احتياط: دکتاب اودسنت اوصحابه کرامو داقوالو پوره ذخیره یی په مخکی ایښي وه ترڅو هیڅ اړخ دنظرونو څخه پټ پاته نه سی اودهر ډول تحقیق او تدقیق څخه وروسته به یې هغه په سمو او روانو جملو کی قلم بند کړل اوپه دی دیده ریزی، غور اوفکر، اخلاص او للّهیت اوفضل اوکمال سره دفقه وجود په عمل کی راغی چی دهره پلوه څخه مهذب اومرتب اودژوند پرټولو شعبو باندی حاوی وی.

دتدوين طريقه: دکمو علماؤ قائمین بالحق په مجلس کی چی دمسائلو داستنباط اوداستخراج دغه مهتم بالشان کار سرته ورسیدی دهغوی شمیر دسوونو څخه زیات تر زرونو پوری وو په هغوی کی څلوښت (۴۰) علماء دخصوصی صلاحیتونو خاوندان وه او دمختلف علم اوفن ماهرین او امامان شمیرل کیدل. ([1])

روی الامام ابو جعفر الشيرماذي عن شقيق البلخي انه كان يقول: كان الامام ابو حنيفة من اورع الناس، اعبد الناس واكرم الناس، واكثرهم احتياطا في الدين، وابعدهم عن القول بالراى فى دين الله عزوجل، وكان لا يضع مسالة فى العلم حتٰى يجمع اصحابه عليها ويعقد عليها مجلسا، فاذا اتفق اصحابه كلهم على موافقتها للشريعة قال لابى يوسف او غيره: ضعها فى الباب الفلانى آهـ. (ردالمحتار ص ٦٢ ج١)

امام ابوجعفر شیرماذی رحمه الله دشقیق بلخی څخه روایت کوی چی هغه به فرمایل چی امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په خلګو کی دټولو څخه زیات پرهیزګار عبادت ګذار کریم النفس او ددین په باره کی محتاط وو هغوی دالله تعالٰی په دین کی دذاتی رأی داظهار څخه په میلونو لیری وو دیوې علمی مسئلې به یی ترهغه پوری تفریع نه کوله ترڅو چی به یی ټول احباب ملګری نه وه راجمع کړی اوپر هغې به یی بحث نه وو کړی کله به چی ټول علماء دشریعت په دغه مسئله کی متفق سول نوامام ابو یوسف رحمة الله علیه یا دهغه څخه بغیر بل چاته به یی وویل چی دا مسئله په فلانی باب کی داخله کړه.

پر يوه يوه مسئله باندې بحث: امام شعرانی رحمة الله علیه هم دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه ددی استنباط دطرزتذکره کړیده اوکم اوزیات یې په هغوالفاظو سره یادونه لکه علامه شامی

([1]). ونقل عن المسند الخوارزمی ان الامام اجتمع معه الف من اصحابه اجلهم وافضلهم اربعون قدبلغوا الاجتهاد فقربهم وادناهم (ردالمحتار ج١ص ٢٢) دهغو څلويښتو علماؤ دحالاتو دپاره (کم چه په خاص ډول سره دفقه په مجلس دتدوین کی شریك وه) وګوری مقدمه انوار الباری مؤلفه مولانا احمد رضا صاحب. ظفیر

رحمۃ اللہ علیہ چی هم لیکلی دی:
وکذا فی المیزان للامام الشعرانی قدس سره (ایضًا) یعني دامام شعرانی رحمۃ اللہ علیہ په کتاب (المیزان) کی هم دغه ډول لیکلی دی بیا علامه ابن عابدین رحمۃ اللہ علیہ لیکی:
فکان اذا وقعت واقعة شاورهم وناظرهم وحاورهم وسألهم فیسمع ما عندهم من الاخبار والاثار ویقول ما عنده ویناظرهم شهرًا او اکثر حتٰی یستقر آخر الاقوال فیثبته ابو یوسف حتی اثبت الاصول علٰی هذا المنهاج شوری لا انه تفرد بذالک. (ایضًا)
کله چی به کمه واقعه او مسئله پیښه سوه نوامام ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ به دخپلو ټولو اصحابو دعلم اوفن سره مشوره، بحث او مباحثه او تبادله دخیالاتو کوله اول به یی هغوی ته فرمایل چی کم شی (ددې مسئلې په اړه) دهغوی سره دحدیث او دصحابه کرامو رضی اللہ عنہم داقوالو څخه ذخیره وی نو پیش دی کړی بیا به یی خپله داحادیثو ذخیره په مخ کې کښېښوول او ددی څخه وروسته به یی یوه میاشت یا ددی څخه زیات پر دغه مسئله باندی بحث کوی ترهغه چی آخری خبره به فیصله کړل سوه اوامام ابو یوسف به هغه قلمبنده کړه په دی ډول په شورایی طریقه سره ټول اصول منضبط سول داسی نه دی سوی چی یوازي یی یوه خبره کړی وی.
دکتاب او دسنت حیثیت: د: اخبار او آثار، الفاظ دا ښیی چی لومړی به دهغه علماؤ سره دکتاب او دسنت چي کمه ذخیره وه هغه به یی ورته وویل بیا چی به دصدر مجلس په علم کی دکتاب اودسنت کمه خزانه محفوظه وه هغه به پیش سوه او ددغه ټولو مرحلو څخه وروسته دهغه په رڼا کی به هرکس پر مذکوره مسئله باندی بحث کوی اوخپله رایه به یی ورکوله نورو به پردی باندی دمختلفو اړخونو څخه اعتراضات او اشکالات پیدا کول بیابه داشکالاتو هریوه دخپل فهم مطابق مگر دکتاب او دسنت په رڼا کی جواب ورکوی پخپله امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ به هم په دی بحث اومباحثه کی برخه اخیسته اولکه څنگه چی تاسو اوس وویل چی پریوه یوه مسئله به ترمیاشتو پوری بحث جاری وو کله چی به یی دهر پلو او اړخ څخه اطمینان حاصل سو نو په صفا او تلل سوو الفاظو کی به یی په رجسټر کی درج کوله.
پخپله سوچ وکی چی که چیري یوازي دیوه یوه کس خبره وی نو دغلطی احتمال به وو، مگر دلته څلویښت څلویښت، جید دمختلفو فنونو ماهرین علماء دی اوپه پوره دیانت داري اوسنجیدگی سره یې ترهفتو اومیاشتو پوری پر یوه یوه اصل باندی دکتاب الله سنت رسول الله ﷺ او دصحابه کرامو رضی اللہ عنہم داقوالو په رڼا کی بحث او تمحیص کوی نو

دغلطی سوال بیا چیري پیدا کیږی.

دانساني غلطي تدارک: لیکن په هر حال دغه ټول ربانیین علمآء انسانان وه، نوددې وجه ممکن وه چي یوځای په یوه مسئله کی خطاء سوی وی یا دآیت او احادیثو څخه په استنباط اواستخراج کی خطا سوی وی نو ددې وجه صدر مجلس ضروری وګڼله چی ددی ټول حزم اواحتیاط ، اوکد او کوشش سره سره دانساني هیری اوخطاء اومحدود نظری څخه نظر اړول په هیڅ شان مناسب نه دی چنانچی اعلان یی وکی چی که دیوې مستنبطی مسئلې دکتاب اودسنت څخه خلاف کیدل ثابت سی نوهر مسلمان ته کامل اختیار بلکه دهغه فریضه ده چی هغه داترک کړی اوصراحتًا چی دحدیث پاك څخه څنګه ثابتیږی په هغه باندی عمل وکړی.

فقد صح عن ابي حنيفة انه قال اذا صح الحديث فهو مذهبي وقد حكى ذلک الامام ابن عبد البر عن ابي حنيفة وغيره من الائمة رحمهم الله ونقله ايضا الامام الشعراني. (شرح عقود رسم المفتی ص ۱۷).

داروایت دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه څخه بالکل درست دی هغه فرمایلی دی چی کله حدیث پاك صحت ته ورسیږی نوبیا زما مذهب دغه حدیث دی دا امام عبد البر اونورو ائمه ؤ ددین دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه په باب کی بیان کړیدی اوامام شعرانی رحمه الله هم دا را نقل کړی دی.

دامام اعظم رحمة الله علیه اعلان: دصاحب هدایی څخه مختلفو حضراتو دهغه دا روایت نقل کړیدی کم چی دروضة العلماء زندوسیه په باب دفضلِ صحابه کی ذکر دی:

سئل ابوحنيفه رحمه الله اذا قلت قولا وكتاب الله يخالفه، قال: اتركوا قولی بكتاب الله فقيل: اذا كان خبر الرسول صلّى الله عليه وسلّم يخالفه، قال: اتركوا قولی بخبر رسول الله صلى الله عليه وسلم فقيل: اذا كان قول الصحابة يخالفه ، قال: اتركوا قولی بقول الصحابة رضي الله عنهم (عقد الجيد للشاه ولی الله ص ۵۳).

دامام ابوحنیفه رحمه الله څخه پوښتنه وسوه چی کله ستاسي یو قول دکتاب الله سره مخالف راسی نوپه دغه حالت کی باید څه وسی؟ هغه وفرمایل دکتاب الله په مقابله کی زما قول ترك کړی بیا ورته وویل سوه چی که چیري دنبی کریم صلى الله عليه وسلم دحدیث سره یې مخالفت راسی نو وی فرمایل چی د حضور صلى الله عليه وسلم په مقابله کی زما قول پرېږدی بیا ورته وویل سوه چی که داسی دصحابه ؤ قول دهغه دقول خلاف وی نو بیا یې وفرمایل چی دصحابه ؤ دقول په مقابله کی هم زما قول پرېږدی یعنی زما دقول اهمیت په دغه وخت کی هیڅ نه دی کله چی په دغو کی دیوه خلاف هم ثابت سی.

خبره بالکل درسته ده په اصل کی چی کم جدید ترتیب دمسائلو کیدی دا خو دکتاب الله

او دسنت رسول اللغ اواقوالِ صحابه ۆ په رڼا کی کیدی ددغه طرزِ جدید علت صرف دا وو چی دامت مخ ته راتلونکو ته دزمانۀ حال مطابق مسائل په اسان اسلوب کی راسی ځکه دزمانی درفتار چی کم طرف ته مخ وو هغه دا ښوولهٔ چی دانسان مزاج دآسانۍ غوښتونکي جوړیدو لور ته روان دی، که دغه وخت توجه نه وای ورته سوی نوپه راتلونکی کی به سختۍ زیاته سوی وای.

پر دلائلو باندی بنیاد: امام ابو حنیفه رحمة الله علیه پردی باندی اکتفاء ونه کړه بلکه خپلو تلامذه وو او اصحابو ته یی حکم کړی وو چی تاسی خامخا په یوه خبره پوری مه ټنګیږی بلکه که په یوه مسئله کی یو وزن لرونکی اوقابلِ اعتماد شرعی دلیل درته پیدا سی نوبیا هغه اختیار کړی او ددی نوروته هم حکم وکړی ځکه چی مقصد خو په کتاب اوسنت او په اقوالِ صحابه رضی الله عنهم باندی عمل دی پرخپله خبره باندی ضد کول او دخپل فکر او فهم خپرول مقصد نه دی.

فاعلم ان ابا حنیفة رحمة الله علیه من شدة احتیاطه وعلمه بان الاختلاف من آثار الرحمة قال لاصحابه ان توجه لکم دلیل فقولوا به (شرح عقود رسم المفتی ص۱٦).

دغایت احتیاط او ددی یقین په وجه چی اختلاف داثارو درحمت څخه دی امام ابو حنیفه رحمة الله علیه خپلو ملګرو ته فرمایلی وه چی که یو دلیل تاسو ته ښکاره سی نو بیا په هغه باندی عمل وکړی او دهغه حکم ورکوی.

دوروستنیو احتیاط: چنانچی دهغوی شاګردانو ملګرو او وروسته راتلونکو ددغه قول اهمیت محسوس کی اوکله چی په کم ځای کی په یوه مسئله کی ددلائلو او براهینو په رڼا کی شبهه پیدا سوه هغه یی ترك کړی او دکتاب اوسنت په دائره کی چی بل صحیح صورت په نظر راغی په هغه یی عمل کړی دی.

وقد یتفق لهم ان یخالفوا اصحاب المذهب لدلائل واسباب ظهرت لهم (رد المحتار ج۱).

او کله کله ددلائلو او دبراهینو له امله دمذهب داصحابو مخالفت هم دې خلګو کړیدی.

دضد څخه داجتناب (پرهیز) کولو ډیر مثالونه: داخو دهغوی دملګرو اوتلامذه وو حال وو چی دوی په سلګونو مسئله کی دهغوی سره پردلائلو اودخپل فهم په بنیاد اختلاف کړیدی اوپه دی باندی دهغوی عمل وو بل طرف ته پخپله دامام اعظم رحمة الله علیه داحال وو چی که دیوې فیصله کړل سوی مسئلې په خلاف به چی کمه بله رایه دکتاب اودسنت په رڼاء کی وزنی معلومه سوه اوکتاب اوسنت ته نژدی، نو هغوی به دغه فیصله کړل سوی ترك کړه دهغه څخه به یی رجوع وکړه او ددی بل صورت به قائل سو، دا یو او دوه

نه دی بلکه په سلګونو مسائل داسی دی دکمو څخه چی دهغوی رجوع ثابته ده کمو وګړو چی په دقت نظر سره دفقهی مطالعه کړیده دهغوی دنظرونو څخه دا شیان پټ نه دی.

دکتاب او دسنت په مقابله کی درایی شدید مذمت: داخبره په ښه ډول سره په ذهن کی وساتی چی امام ابو حنیفه رحمة الله علیه به دهغه رأی مذمت کوی چی دکتاب اودسنت څخه مستفاده نه وی بلکه دابه یی په ضلالت سره تعبیروله.

وقد روی الشیخ محی الدین فی الفتوحات المکیة بسنده الی الامام ابی حنیفة رضی الله عنه انه کان یقول ایاکم والقول فی دین الله تعالی بالرأی وعلیکم باتباع السنة فمن خرج عنها ضل. (کتاب المیزان للشعرانی ج۱ ص۵۰).

په فتوحات مکیه کی شیخ محی الدین رحمه الله مسلسل ترامام ابو حنیفه رحمة الله علیه پوری دخپله سند دبیانولو څخه وروسته دهغوی داقول نقل کړی دی چی امام صاحب رحمة الله علیه به فرمایل دالله پاك په دین کی دمحض رأی پر بنیاد باندی دحکم کولو څخه ځان وساتی اوپه خپل ځان باندی دسنتو پیروی ضروری کړی ځکه چی څوك ددی څخه خارج سو هغه ګمراه سو.

هغوی به داهم فرمایل چی ترڅو پوری په شریعت کی دیوی خبری ثبوت پیدا نه سی نوهغه په ژبه راوړل هم ګناه ده.

وکان یقول لا ینبغی لاحد ان یقول قولا حتی یعلم ان شر یعة رسول الله صلی الله علیه وسلم تقبله. (کتاب المیزان للشعرانی ج۱ ص۵۱).

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه به فرمایل چی ترڅو پوری دایقین نه وی سوی چی داخبره دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دشریعت موافق ده دهیڅا دپاره دهغه راوړل پر ژبه باندی درست نه دی.

دمسائلو استنباط او دهغه دپاره اهتمام: کم مسائل چی صراحةً په کتاب اوسنت اودصحابه کرامو په اقوالو کي پیدانه سی دهغو دپاره به یې پوره مجلس راغوښتی او دبحث او څیړني څخه به یې کار اخیستی، او ترڅو چي به پر یوه شي باندي دټولو اتفاق نه وو راغلی نو ترهغو پوري به یې دزړه اطمینان نه کیدی، امام شعرانی رحمة الله علیه لیکی:

وکان یجمع العلماء فی کل مسئلة لم یجدها صریحة فی الکتاب والسنة ویعمل بما یتفقون علیه فیها (کتاب المیزان للشعرانی ج۱ ص۵۱).

کمه مسئله چی به په کتاب اوسنت کی صراحةً نه وه نو ددې وجه به یی ټول علماء کرام جمع کول اوچی پرکمه به دټولو اتفاق وسو نوعمل به یی ورباندی کوی.

همدغه رکم به یی داستنباط او داستخراج په موقع باندی کول، دعلماء عصر سره مشوره او دهغوی اتفاق به یی ضروری گڼی او یوازي به یی هیڅکله دغه رکم قدم نه پورته کوی.

وکذالک یفعل اذا استنبط حکما فلا یکتبه حتی یجمع علیه علماء عصره فان رضوا قال لابی یوسف اکتبه (ایضا).

کله چی به دکم حکم استنباط مقصود وو ترهغه پوری به یی په ضبطِ تحریر کی نه راوستی ترڅو چی به یی ټول علمآء نه وه راجمع کړی اومشوره به یی نه وه کړی نوکه ټول به پردی باندی متفق سول اوخوښه به یی کړه نوامام ابی یوسف رحمة الله علیه ته به یی وفرمایل چی دا ولیکه.

داصحاب الرأی مطلب: علماؤ چی هغوی اوملګری یی اصحاب الرأی ګرځولی دی ددی دامطلب هیڅکله نه دی چی یوه ذاتی یا ځان ځانی رایه به یی ورکوله ځکه چی تاسو مخکی وویل چی امام صاحب رحمة الله علیه به دغه شان رأی ته ګمراهی ویله لهذا که چا داسی ویلی وی یا پوهیدلی وی نو هغه دښکاره غلطی ارتکاب کړی دی برابره خبره ده که هغه دلویو څخه لوی محدث ولی نه وی، موصوف امام او دهغوی ملګری ددی څخه بالکل بری دی ابن حجر مکی شافعی صحیح لیکلی دی:

اعلم انه یتعین علیک ان لا تفهم من اقوال العلماء عن ابی حنیفة واصحابه انهم اصحاب الرأی علی سنة رسول الله ﷺ وعلی قول اصحابه لانهم براء من ذلک (الخیرات الحسان ص۲۹).

ښه یقین وکړه چی دعلماؤ ددې اقوالو دوجه څخه داسی ونه پوهیږې چی امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اودهغه ملګری دسنت رسول الله ﷺ او داقوالو دصحابه کرامو (رض) په مقابله کی داصحاب الرأی حثیت لری ځکه چی دا حضرات ددی څخه بالکلیه بری دی.

دفقهه په تدوین کی ترتیب: مخ ته ددلائلو په طور سره لیکی چی دامام صاحب رحمة الله علیه اودهغه دملګرو دفکر او استنباط او استخراج طرز څه وو او هغوی پرکمو اصولو باندی ګام ایښودونکي وه، فرمایی:

فقد جاء عن ابي حنيفة رحمه الله من طرق كثيرة ما ملخصه انه اولا يأخذ بما في القرآن فان لم يجد فبالسنة ، فان لم يجد فبقول الصحابة فان اختلفوا اخذ بما كان أقرب الى القرآن او السنة من اقوالهم ولم يخرج عنهم فان لم يجد لاحد منهم قولا ، لم يأخذ بقول احد من التابعين بل يجتهد كما اجتهدوا (الخيرات الحسان ص۲۹).

دامام ابو حنيفه رحمة الله عليه متعلق چي په کثرتِ طُرق سره کم ثابت سوی حقيقت دی هغه دادی چي هغوی به اول قرآن اختياروی که په قرآن پاك کی به هغه شی نه پيدا کيدی نو په سنت رسول الله ﷺ به يی عمل کوی اوکه په سنت کی به هم يو شي پيدا نه سو نو بيابه يې دصحابه ؤ قول اختياروی که په يوه مسئله کي به دصحابه ؤ اختلاف نو په هغه کی به چی کم کتاب اوسنت ته زيات قريب معلوميدی هغه به يی قبلوی او ددی څخه به دباندي نه وتی اوکه دصحابه ؤ رضي الله عنهم به هم يو قول پيدا نه سو نو په تابعينو کی به يی دچا قول نه اختياروی بلکه پخپله به يی اجتهاد کوی لکه چي نورو کسانو به کوی.

دفقهي په تدوين کی داوليت شرف: په امت کی دفقه دترتيب او دمسائلو په استنباط او استخراج کی دوی ته داوليت شرف حاصل دی ددی څخه وړاندی په عام طور دوګړو دارومدار پرحافظه باندی ؤ امام مالك رحمة الله عليه هم په دی سلسله کی دهغه پيرو دی ابن حجر شافعی رحمة الله عليه نقل کوی:

انه اول من دون علم الفقه ورتبه ابواباً على نحو ما هو عليه اليوم وتبعه مالک في موطاه ومن قبله انما كانوا يعتمدون علٰى حفظهم (الخيرات الحسان ص ۳۱).

امام ابو حنيفه رحمة الله عليه اولنی شخص دی چی علمِ فقه يې مدون کړه او دايې په دی ډول پر بابونو او فصلونو باندي مرتبه کړه لکه څنګه چی نن په دغه مرتب شکل کی موجود دی امام مالك رحمة الله عليه په خپل موطاء کی دهغوی پيروی کړيده دامام ابو حنيفه رحمة الله عليه څخه مخکی به دخلګو اعتماد پرحافظه باندی وو.

امام اعظم رحمة الله عليه او دهغوی ملګری اول محدث او بيا فقيه: امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه او دهغوی ملګری اول محدث اوبيا فقيه وه ځکه چي په کمه زمانه کی چي داحاديثو مجموعی موجودی نه وی بغير دعلم حديث څخه دمسائلو استخراج دکم ځای څخه کيدی سوای دحنفی فقهی دومره عظيم الشانه ذخيره دکمی څخه چی ټولی دنيا او وروستيو مجتهدينو په خپله زمانه کی استفاده وکړه بغير داحاديثو څخه دکم ځای څخه راغله او نن ددی فقه ټول مسائل او اصول څنګه دحديث موافق سول لهذا دابايد ومنل سی چي حنفی فقه دکتاب اوسنت څخه يو جلا شی نه دی ابن حجر شافعی ليکلی دی چی:

مرّ انه خذ عن اربعة الاف شيخ من ائمة التابعين وغيرهم ومن ثم ذكره الذهبی وغيره فی طبقات الحفاظ من المحدثين (ايضا ص۲۲).

دا خبره مخکی تيره سويده چی امام ابو حنيــفه رحمة الله عليه دخلورو زرو ائمه ؤ تابعينو او

دنورو شیوخو څخه علم حدیث حاصل کړیدی اوهم داوجه ده چې امام ذهبی رحمة الله علیه او نورو محدثینو په طبقه حفاظ کې هغوی شمیرلی دی.

دامام ابو یوسف اودامام محمد رحمة الله علیه داحادیثو ذوق (۱) ددوی دهغه کتابونو څخه معلومیږی چې هغوی لیکلی دی کتاب الاثار، کتاب الخراج، کتاب الرد علی سیر الاوزاعی، کتاب الحج، موطاء امام محمد، اونور کتابونه په عام طور پیدا کیږی هغه را واخلی او وې وایاست اوهغه مخ ته کنبیږدی او اندازه ولګوی.

نن هم دحنفی فقهی طالب العلم ترهغه وخته پوری مطمئن کیږی نه ترڅو پوری چې دیوې یوې حنفی مسئلې تحقیق دکتاب او سنت په رڼاء کې ونه کړی.

غلطه پروپیګنډه (آوازه) : دا ویل درست نه دی چې هغو حضراتو ته داحادیثو نبویه ﷺ سره دومره شغف نه ؤ څومره چې دفقه سره ؤ اونه داخبره پرځای ده چې دهغو حضراتو تمام تر توجه دآیاتو اواحادیثو څخه دمسائلو اواحکامو پراستنباط اواستخراج باندی مرکوزه وه او دتدوین اوجمع احادیث سره دهغوی کمه دلچسپی نه وه بلکی خبره یوازی دومره قدر ده چې تدوین فقه دکم لورته چې تراوسه پوری چا توجه نه وه کړی هغوی ددی ضرورت محسوس کی اوپه اجتماعی طور یې په پوره محنت سره دا کار شروع کی وجه ظاهره ده چې استنباط دمسائلو او داحکامو په دغه وخت کې ترټولو مهم کار وو اودا دټولو دتوان خبره هم نه وه ځکه چې په دی کې ډیر غور اوفکر اوفهم اوبصیرت ته ضرورت وی باقی دتدوین حدیث کار داخو دعهد نبوی ﷺ څخه راروان ؤ اوپه دغه وخت هم پخپله هرچا ته ددی سره دلچسپی وه دکم لوی ثبوت چې پخپله دامام اعظم رحمة الله علیه جامع المسانید دی اوبیا داولی صدی په ختم کیدو کله چې دصحابه کرامو رضی الله عنهم دمبارکو مخونو دپتیدلو څخه تراوسه لس شل کاله لا هم نه وه تیر سوی.

په دی خو ټول پوهیږی چې داحادیثو په راجمع کولوکې مهم کار پراسناد او روایاتو باندی نظر دی اوکه په رښتیا وپوښتل سی نوهمدا معیار دی دامام اعظم رحمة الله علیه په

---

(۱). امام علاء الدین الطرابلسی په خپل کتاب معین الحکام کی نقل کړیدی: فان ابا یوسف صاحب حدیث حتی روی انه قال احفظ عشرین الف حدیث من المنسوخ فاذا کان یحفظ من المنسوخ هذا القدر فما ظنك بالناسخ وکان صاحب فقه ومعنی (ص ۳۰) دکم حاصل چې دادی چې امام ابی یوسف محدث ؤ اودبعضو روایاتو مطابق پخپله دامام موصوف بیان دی چې: ماته منسوخ احادیث شل زره یاد دی ددي څخه اندازه لګیږی چې ناسخ احادیث به ئی څومره زره په یاد وه په همدی ډول یې دامام محمد رحمة الله علیه په باره کی لیکلی دی چې هغه ته داحادیثو معرفت حاصل ؤ، فقیه او ذهین خو ؤ چې ؤ: ومحمد صاحب قریحة یعرف احوال الناس وعاداتهم وصاحب فقه ومعنی ولهذا اقل رجوعه فی المسائل وکان مقدما فی معرفة اللغة وله معرفة بالاحادیث ایضا (ایضا) اوامام اعظم رضی الله عنه په هر یوه شي کی ترټولو وړاندی ؤ: وابو حنیفة کان مقدما في ذلك کله. ظفیر

دورکی کم وخت چی دتابعینو لویه طبقه ژوندۍ وه نو دراویانو داسناد په اړه ددومره ډیر بحث ګنجائش چیري وو کم چی وروسته وسو دصحابه کرامو ﷺ متعلق خو دامسلم دی چی (الصحابة کلهم عدول) صحابه کرام ﷺ ټول عادلان وه پاته سوه تابعین نو هغوی خو په خپله موجود وه.

بیا داهم دسوچ کولو خبره ده چی کله دفقه تدوین دآیتونو او احادیثو څخه کیدی نو ددغه شیانو څخه دعدم توجه موقع څه وه ځکه چی په دی کارکی اول احادیثو ته ضرورت پیښیږی.

ابن حجر مکی شافعی رحمة الله علیه لیکلی دی چی لکه څنګه چي دصدیق اکبر اوفاروق اعظم ﷺ څخه باوجود دجلالت علم او دآنحضرت ﷺ سره دقربت، داحادیثو هغه ذخیره مروی نه ده لکه څنګه چی دنورو لویو او کشرانو صحابۀ کرامو ﷺ څخه روایت سویده، چی دا حضرات دعامة المسلمین اوداسلام په مصالحو او احکامو قائمولو کی په دی اندازې منهمك او لاهو وه چی دوی ته دروایت په طرف هغه توجه نه وه څومره چی دنورو وګړو وه لیکن ددی هیڅکله مطلب دا نه سی کیدی چی دغو حضراتو داحادیثو سره شغف نه درلودی، یا احادیث ورته یاد نه وه.

په دغه ډول امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اودهغه ملګری دفقهی دترتیب او استنباط اوداخراج په وجه که داحادیثو په روایت کی نمایان په نظر نه راځی نو ددی دامطلب هیڅکله نه دی چی دغو حضراتو دحدیث له دولت څخه وافره حصه نه وه حاصله کړی دهغوی الفاظ دادی!

ولاجل اشتغاله بهٰذا الاهم لم یظهر حدیثه فی الخارج کما ان ابابکر وعمر ﷺ لما اشتغلا لمصالح المسلمین العامة لم یظهر عنهما من روایة الاحادیث مثل ما ظهر عمن دونهما حتٰی صغار الصحابة رضوان الله علیهم وکذالک مالک والشافعی لم یظهر عنهما مثل ماظهر عمن تفرغ للروایة کابی زرعة وابن معین (الخیرات الحسان ص٦٦).

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه دحدیث اوقرآن څخه چونکی دمسائلو په استنباط اواستخراج کی منهمك ؤ چی ډیر مهم کار وو نو ددی وجهی څخه دهغوی داحادیثو خدمت ښکاره نه سو ددی مثال داسی دی لکه حضرت ابوبکر اوعمر ﷺ ته چی دعامو مصالحو سره په اړوندو امورو کی داشتغال په وجه دحدیث په روایت کی هغه نمایان مقام حاصل نه سو کم چی لویو اوصغارو صحابه کرامو ﷺ ته حاصل وو او همدغه حال دامام مالك اودامام شافعی رحمة الله علیه هم دی چی ددوی خدمت دحدیث دهغو وګړو په شان نمایان نه

دی کم چی په دی کار کی مصروف پاته سوی وه لکه ابو زرعه او ابن معین رحمهما الله .
بهرحال حقیقت دادی چی امام صاحب رحمة الله علیه او دهغوی ملگرو داحادیثو سره هم دخپل دور دمزاج مطابق هغه شغف درلودی کم چی ددی کار دپاره مناسب وو.

دفقه تدوین او دمسائلو خپریدل: دفقهی کم کار چی دامام اعظم رحمة الله علیه تر نگرانی لاندی سرته رسیدلی ؤ هغه دضرورت او دوخت دتقاضا سره سم مخ په وړاندي خپریدی او زیاتیدی یو منزل ته په رسیدو ونه دریدی او همداسی هم په کار وه ځکه چی انسانی ضروتونو نوی نوی شکلونه اختیارول اودنوو ایجاداتو اوجدت پسندی سره مسائل راپورته کیدل او ان شاء الله دغه سلسله به ترقیامته پوری په همدی ډول جاری وی اوهمدا وجه ده چی دفقهی په احادیثو کی ډیر لوی فضیلتونه بیان سوی دی دنبی کریم ﷺ ارشاد گرامی دی:

من یرد الله به خیرا یفقه في الدین، انما انا قاسم والله یعطي، متفق علیه (مشکوة کتاب العلم ص۳۲).

الله پاك چی دچا سره دبهتری وعده وفرمایی نوپه دین کی هغه ته بصیرت عطاء کړی زما کار خو بس تقسیم کول دی په حقیقت کی عطاء او ورکړه دالله تعالی کاردی.
په دی حدیث پاك کی دی طرف ته اشاره ده چی په فقاهت اواستنباط او استخراج کی بصیرت یو فیضان الٰهی دی او دانسان عمل ته په دی کی دخل نسته دقدرت دطرف څخه دافیضان پرهغو بندگانو باندی کیږی کم چی هغه ورباندی پیرزوینه کول غواړی.

دفقهی برکت: دحضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما بیان دی چی رسول الثقلین ﷺ فرمایلی دی: فقیه واحد اشد علی الشیطان من الف عابد رواه الترمذی (مشکوٰة).
یعني یو فقیه پرشیطان باندی دزرو عابدانو څخه زیات دروند دی.
دنورو شیانو سره سره په دی حدیث پاك کی داهم اشاره معلومیږی چی که چیري فقهاؤ په مسائلو کی په صحیح طور باندی رهنمایی نه فرمایلی نو دشیطان لښکر به انسانان پرغلطه لاره روانولی او دگمراهی په جهنم کی به یی درولی وای او همدا وجه ده چی شیطان څومره دفقیه څخه بیریږی دعبادت گذار څخه دغومره نه بیریږی. په دې وخت کي یوازي اشاره کول مقصود دی دتفصیل دپاره دا ځای نه دی.

فتوٰی او دهغه اهمیت: دفقه او ددین هغه مخ ته راغلي مسائل چی دپوښتنه کونکو او دسائلینو په جواب کی ښوول سوی دی یاپه هغه ساده انداز باندی مرتب سوی وي هغه دفتوٰی په قالب کی ځلیدلي دي او دې سلسلی دانساني ضرورتونو سره پوره پوره ملگرتیا وکړه، دکتاب او دسنت او دفقه څخه مستنبط دغه مفید او جدید شکل عام

مسلمانان دتحقیق او جستجو دیو صبر ازمایونکي مصیبت څخه وساتل دفتاوٰی دغه خپریدل دانساني ضرورتونو اوسوالاتو سره زیاتیدل، دانساني ژوند دمختلفو شعبه جاتو سره متعلق مسائل څنګه څنګه چي پیدا کیدل دکتاب اودسنت اودفقه څخه ددی مستنبطو مسائلو په ذخیره کی هم اضافه کیده پرهیڅ مرحله باندی جمود پیدا نه سو لکه چي دنني انساني ژوند سره متعلق داسی یو سوال نسته دکم جواب چي دوخت مفتی تاسو ته فراهم او برابر نه کړی.

دتنګ نظری الزام: کمو کسانو چي دخپلی کم علمی او وسعت مطالعی دکمی په وجه پرعلماءِ دین باندی دجمود اوتنګ نظری الزام لګولی دی هغوی تر ډیره حده پوری معذور دی البته دصد ملامتیا قابل هغه حاسدین دی څوك چي دکینه او حسد دلاری داسی خبره کوی دهردور دفتاوٰی کتابونه په مختلفو ژبو چاپ سوی پیدا کیږی چي په هغوی کی دهر دور نوی مسائل هم درج دی او دهغو جوابات هم، ددغو کتابونو څخه زیات په ثبوت کي نور څه ویل کیدی سی.

فقه او فتاوٰی داسی یو فن دی دکم څخه چي هیچاته مفر (تیښته) نسته ځکه چي په انساني ژوند کی څومره قدر واسطه او تعلق ددی فن او ددی داصولو او دجزئیاتو سره راځی اوڅومره اندازه چي دراتلونکی ورځی دمسائلو جواب دلته ورکول کیږی، دا دبل ځای څخه ممکن نه دی.

دفتوٰی تاریخ: دفتوٰی تاریخ ډیر قدیم اوددی نسبت ډیر لوړ دی ځکه هر یومسلمان چي وی برابره خبره ده که هغه ولی وی، قطب وی، محدث وی، مفسر وی، مؤرخ وی غرض داچي هرڅوك چي وی هغه په خپلو معلوماتوکی دمفتی محتاج دی، بغیر دکد، زحمت، کوشش او تحقیق اوجواب څخه دمسئلې حل اسان نه دی، یو شخص دعوه نه سی کولی چي موږ ته په خپل ژوند کی په یوه مرحله کی هم داسی سوال مخ ته نه دی راغلی په کم کی چي دفقه او فتاوٰی طرف ته درجوع کولو ضرورت ونه سی.

داچي یو کس دي ځان ته مسلمان هم وایی یعنی هغه دیو مکمل ضابطۂ حیات (دژوند دتګلاري) پابند هم وی او هغه دي ددینی مسائلو اودهغه دصحیح صورت څخه بی پرواه هم وی داغیر ممکن دی، په عباداتو اومعاملاتو اوپه اخلاقو او اعمالو کی سلګونه مواقع داسی راځی چیري چي هغه ته درهنمایی دضرورت احساس کیږی اوپه هغه سختو مواقعو کی په یقینی طور فقه او فتاوٰی اودفقهاء کرام اومفتیان عظام ورهبری ته محتاج وی هرکس ته په خپل منهمك ژوند کی دومره قدر مهلت چیري دی چي هغه دیوه سره څخه دقرآن پاك او حدیث مبارك په غور او فکر سره مطالعه وکړی او وخت په وخت

دمخ ته راتلونکو مشکلو مسئلو حل تلاش کړی.
دفقه او فتوٰی دپاره مخصوصه ټولۍ او ددې وجه: ددی څخه انکار نسته چی دمسئلو او داحکامو ټولو ذخيره په اصل کی کتاب اوسنت دی لیکن دومره خبره خوهر صاحب عقل او دانش تسلیموی چی په حدیث پاك اوقرآن مبارك کی په يو خاص اندازکی پرحقائقو اواحکامو باندی رڼا اچول سوی ده اوبل لورته داهم مسلمه ده چی عموما هر چاته په هره زمانه کی حالات یو ډول مخ ته نه راځی په مختلف ډول سره صورت حال مخ ته راځی په ټولوکی دا فهم اوبصیرت چیري دی چی دکلام الله اودسنت نبوی څخه دخپلو حالاتو مطابق دهری یوی جزئیی جواب حاصل کړی اوهغه جواب بالکل صحیح هم وی، که دګوتو په شمار څوافراد په دی شان را ووزی هم نوبیا حتمي او ضروري نه ده چی هغوی ته دي په کتاب او سنت کی مهارت هم وی اوپه هغوی کی دي هغه ټول شرائط موجود وی کم چی دیو صاحبِ نظر مفتی دپاره ضروری دی اوکه دهغو ټولو اوصافو جامع هم وی نوهغه ته دومره مهلت چیري دی چی ددومره عظیم الشانی ذخیری څخه په مطلب کي مفید ایت اوحدیث فوراً تلاش کړی اوپه دی شان چی هغه آیت اوحدیث دنورو ایاتونو اواحادیثو سره متعارض هم نه وی ددې وجه دعقل هم دا تقاضا ده چی پرقرآن اوحدیث باندی دژور نظر لرونکو يو معتمد جماعت دي ضروری مسائل مستنبط کړی اویو ځای دي کړی ترڅو دامت عام افراد دخپل ورځی او شپی په مخ ته راتلونکو مسائلو کی هیڅیري په مشکل جنجال کی ګرفتار نه سی، اوبلا شهبی اوبلا مبالغه ددغو مستنبطو احکامو اومسائلو نوم فقه او فتوٰی ده. دمفتیانِ کرام جماعت کم چی دفقه سره مناسبت تامه لری په هره زمانه کی موجود وه اودعوامو او خواصو ټولو ددی جماعت طرف ته عامه رجوع وه اوهغوی په خپل علمی رسوخ او خپل خدای ورکړي صلاحیت اومخصوص فهم په وجهی سره په دی کار کی ممتاز اونمایان وه اوشپه او ورځ یی دغه کار مشغله پاته سوی ده.
ددین مخصوص خادمان: دایو حقیقت دی چی دعلماء کرامو دوی طبقی په مخصوص طور باندی ددین په دې ډول خدمت کی ښکاره او پیش پیش وه. یو محدثین دکمو مشغله چی داحادیثو نبویه ؤ حفاظت اوصیانت ؤ یعنی دی طبقی داحادیث نبویه ؤ درواياتو او دهغوی دبیان اودضبط اهتمام کوی او هغوی پراسناد اوپر الفاظو دحدیث باندی ژور نظر درلودی.
دویمه طبقه دامت دفقهاؤ وه کمو چی دقرآنی ایاتو اودنبوی احادیثو علی صاحبها الصلاة والسلام څخه دمسائلو او داحکامو استنباط اواستخراج کړی وو او دالفاظو

دحديث څخه زيات پرمعانی ؤ دحديث اوپه دی سلسله کی پر اصولو او قواعدو باندی دهغوی نظر مرکوز ؤ.

دملت اسلاميه اولني مفتي: دمفتيانو تعلق ددغه دوهمي طبقي سره دی اوددی امت ترټولو ړومبئ مفتی اعظم په خپله رسول الثقلين ﷺ مبارك دی اودا دولت ترهغوی ﷺ پوری درب العزت ﷻ دطرف څخه رسيدلی دی په قرآن پاك دافتاء لفظ پخپله درب العلمين دپاره هم استعمال سوی دی ارشاد ربانی دی:

ويستفتونک في النساء قل الله يفتيكم فيهن وما يتلى عليكم في الكتاب (النساء : ۱۹).

اوخلګ ستاسو څخه دښځو په باره کی حکم پوښتي تاسو وفرماياست چی الله تعالیٰ دهغوی په باره کی حکم درکوی او هغه ايتونه هم چی په قرآن پاك کی تاسوته لوستل کيږی.

دكلاله په سلسله کی دا ايت نازل سو: يستفتونك قل الله يفتيكم فی الكلالة ، يعني خلګ ستاسو څخه حکم پوښتي تاسو وفرماياست چی الله پاك تاسو ته دکلاله په باب کی حکم درکوی.

تاسو وينئ چی په دغو اياتونو کی دافتاء نسبت پخپله درب العزت طرف ته کړل سوی دی چی ددی منصب دجلالت شان اندازه ورڅخه کيږی اويقينًا دانسبت ددی شعبی داهميت او افضليت ترټولو لوی سند دی ددی څخه داخبره ياد ساتل په کاردی چی کم عالم دين پر عظيم الشان منصب باندی فائز کيږی دده ذمه داری څومره درجه مهمه ده اوده لره دڅومره بلندئ حامل کيدل په کار دی .

دا خو مخکی وښودل سوه چی په دی عظيم منصب باندی تر ټولو مخکی په دی امت کی رسول اکرم ﷺ فائز سو الله تعالیٰ هغوئ ﷺ ته دنبوت دذمه داریٔ په وجه دعصمت (هر ډول ورېږ او لويې ګناه څخه ساتنه) دګران قيمته دولت پيرزوينه کړی وه ترڅو ددين په سلسله کی چی هغوئ ﷺ کم حکم وفرمايی هغه دانساني غلطيو او تيروتونو څخه محفوظ وی چنانچه صحابه کرام (رض) اونور خلګ به دهغوئ ﷺ په بابرکته خدمت کی حاضريدل اودخپلو پيښو سوو مسائلو په سلسله کی به يی حکم پوښتی او هغوی ﷺ به دوی ټول په جوابونو ورکولو سره ښادول دهغوئ ﷺ دجواباتو او دسوالاتو لويه ذخيره نن هم داحاديثو په کتابونو کی محفوظ ده، ډيروعلماء کرامو ددغه حصی دعليحده جمع کولو کوشش هم کړی دی. (۱)

(۱) چي په دې لړۍ کې يوډېرښه تصنيف مولانا سيد اصغر حسين صاحب شيخ الحديث دارالعلوم ديوبند رحمه الله =

دآنحضرت ﷺ څخه دسوالونو او جوابونو دپاره دحضرت جبرائیل علیه السلام حاضري: دأحادیثو دکتابونو څخه معلومیږي چي بعضی داسی سوالات دآنحضرت ﷺ څخه سویدی دکم جواب چي هغوی ﷺ ته معلوم نه ؤ. ځکه نو هغوی ﷺ به توقف وفرمایی بیابه فوراً جبرائیل امین علیه السلام خدمت ته حاضر سو هغوی ﷺ به ورته سوال پیش کړی او جواب به یی ورڅخه طلب کړی مګر روح الامین به هم وویل چي ددی سوال په جواب کی زما حال هم ستا په شان دی او بیا یی وویل چي تاسي انتظار وفرمایاست، زه اوس درب ذو الجلال دبارګاه څخه دجواب په راوړلو حاضریږم.

لکه چه دحضرت ابوامامه (رض) صحابي بیان دی چي یوځل یو یهودی عالم په خدمت نبوی ﷺ کی حاضرسو او دهغوی ﷺ څخه یی پوښتنه وکړه چي: ایُّ البقاع خیر؟ کمه برخه دمځکي بهتره ده؟ ددې په اوریدو سره آنحضرت ﷺ خاموش سو اووي فرمایل چي زما داخاموشي ترهغه وخته پوری ده ترڅو پوری چي روح الامین تشریف نه وی راوړی په دی کی فوراً حضرت جبرائیل علیه السلام په خدمت اقدس ﷺ کی حاضرسو حضور پاك ﷺ دهغوی په وړاندی دغه سوال پیش کړی او پوښتنه یی وکړه چي ددې باید څه جواب ورکړل سی؟ حضرت جبرائیل علیه السلام دهغه سوال په جواب کی عرض وکړی: ما المسؤل عنها باعلم من السائل ولکن اسأل ربی تبارك وتعالیٰ (مشکوة باب المساجد ص۶۹) یعني دچا څخه چي پوښتنه کیږی هغه په دی مسئله کی دسوال کوونکی څخه څه زیات نه پوهیږی لیکن زه دپروردګار عالم بزرګ اوبرتر څخه پوښتنه کوم، ددی وینا په کولو حضرت جبرائیل علیه السلام روان سو بیایی لږ وروسته تشریف راوړی او وې فرمایل نن زه رب العزت ته دومره قدر قریب سوم چي دومره هیڅکله هم نه وم قریب سوی هغوی ﷺ سوال وکړی چي ددی نوعیت څه ؤ؟ وی فرمایل: زما اوزما درب ترمینځ صرف اویا زره (۷۰۰۰۰) پردی پرتی وی بیا یی چي کم سوال ورڅخه کړی ؤ دهغه متعلق یی دالله تعالیٰ جل جلاله جواب نقل کړی چي رب العزت ارشاد فرمایلی دی: شَرُّ الْبِقَاعِ اَسْوَاقُهَا وَخَیْرُ الْبِقَاعِ مَسَاجِدُهَا، رواه ابن حبان فی صحیحه عن ابن عمر رضي الله عنهما (ایضا). یعني دمځکی بد ترینه حصه دهغی بازارونه دی او بهترینه حصه یې دهغې جوماتونه دی.

= کړی دی اوپه (فتاوٰی محمّدي ﷺ) یې نامداره کړیدی چي په خپله درسول اکرم ﷺ لخوا دصحابه ؤ پوښتنونوته ویل شوي (۱۲۰) ځوابونه یې دصحاح سته ؤ کتابونو داحادیثو څخه را چاڼ کړیدی، اوهم یې په پای کي ورسره (۲۰) نور سوالونه او ځوابونه دلویو لویو صحابه کرامو رضي الله عنهم هم راغونډ کړیدی، دهر حدیث سره یې اړینه لنډه تشریح هم کړیده، دا کتاب لومړی په أردو ژبه باندي لیکل سوی وو، او اوس لله الحمد په پښتو ژبه هم ژباړل سویدی، چي مکتبه رحیمیه، کاسي روډ، کوټته چاپ کړیدی. حقاني ؒ

ددی حديث پاك څخه معلومه سوه چی دهر سوال جواب دمخکی څخه آنحضرت ﷺ ته معلوم نه ؤ ليکن جواب ورکول درسول والي دوجي څخه دهغوی ﷺ پرذمه ضرور ؤ لهذا هغوی ﷺ به کله دحضرت جبرائيل امين ﷺ په ذريعه جواب معلوموی او بيابه يی سائل ته جواب مرحمت فرمايی.

دتلوار کولو څخه اجتناب او دمشر طرف ته رجوع: ملا علی قاری رحمة الله عليه ددغه حديث په ضمن کی دطيبی رحمة الله عليه دا قول نقل کړی دی: ان من استفتی عن مسئلة لا يعلمها فعليه ان لا يعجل فی الافتاء ولا يستنکف عن الاستفتاء عمن هو أعلم ولا يبادر الی الاجتهاد ما لم يضطر اليه فان ذلك من سنة رسول الله ﷺ وسنة جبرائيل ﷺ ، دکم مفتی څخه چی داسی مسئله وپوښتل سی چی په جواب باندی يی نه پوهيږی نو دهغه فريضه ده چی نه خو په فتویٰ ورکولو کی عجلت وکړی اونه هم ترخپل ځان دلوی عالم څخه په سوال کولو کی شرم وکړی او ترهغه پوری چی داضطرار غوندی کيفيت پيښ نه سی داجتهاد همت دي نه کوی ځکه چی دنبی کريم ﷺ اودحضرت جبرائيل ﷺ طريقه همدغه وه .

ګواکي دمفتی په فرائضو کی داهم داخل دی چی اولاً دي دنص تلاش وکړی او په دی سلسله کی دي دخپل طرف څخه کمه کوتاهی نه کوی که هغه ته کم نص پيدا نه سی دلوی عالم يا مفتی څخه دي پوښتنه وکړی په پوښتنه کی دي دننګ او عار څخه کار نه اخلی او ترڅو پوری چی په قابلِ اطمينان طور باندی جواب پيدا نه سی بغير دعلمِ صحيح څخه چی څه يی په نفس کی راځی دجواب ورکولو کوښښ دی نه کوی او داچی په مسائلوکی دي اجتهاد هغه وخت وکړی چی صراحةً يو آيت ياحديث يا دصحابه ؤ رضی الله عنهم کم قول پيدا نه سی.

دآنحضرت ﷺ دفتویٰ حيثيت او ارزښت: هيڅ شبهه نسته چی دآنحضرت ﷺ دفتاویٰ حيثيت دومره لوړ دی څومره چی دهغوی ﷺ ذات اقدس مبارك لوړ دی او دبلند څخه بلند ترکيدل يي ځکه په کاردی چی خاتم النبيين ؤ، او دعصمت په قيمتي دولت باندي سرفرازه سوی وو، دا يو اصول او قاعده ده چي دجواب هراړخيزتيا او پوره والی، او دهغه دالفاظو تول دجواب ورکونکی دعلمی لياقت او دهغه دمنصب مطابق وی اودا وجه ده چی دآنحضرت ﷺ دجواباتو حيثيت دجوامع الکلم او دفصل الخطاب دی دکم څخه چی دسرغړونی خيال هم ديوه مسلمان دپاره عظيمه ګناه ده ارشاد ربانی دی: وان تنازعتم في شيء فردوه الی الله ورسوله ان کنتم تؤمنون بالله واليوم الآخر ذلك خير واحسن تاويلا (النساء: ۸) بيا که چيري ستاسو په يوخبره کی اختلاف راغی نوهغه خبره

دالله تعالیٰ اودهغه درسول ﷺ طرف ته حواله کوی که چیري تاسو په الله تعالی اوپه ورځ داخرت باندی ایمان لری دا طریقه دټولو څخه بهتره ده اوددی انجام ډیر ښه دی.

دآنحضرت ﷺ څخه وروسته پرمنصب دافتاء باندی صحابه کرام ﷺ : دآنحضرت ﷺ څخه وروسته پر دې عظیم الشان منصب باندی دهغوئ ﷺ هغه جلیل القدره صاحبِ بصیرت صحابه کرام ﷺ فائز سول دکمو متعلق چی دباری تعالی ارشاد ګرامی دی: رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ (التوبة ۱۳)، الله تعالیٰ ددوی څخه راضی سو اودوی دالله تعالیٰ څخه راضی او خوشحاله دی، او درسول اکرم ﷺ فرمان دی: اَصْحَابِيْ کَالنُّجُوْمِ بِاَيِّهِمْ اِقْتَدَيْتُمْ اِهْتَدَيْتُمْ (مشکوة باب مناقب الصحابة ﷺ) یعني زما صحابه دستورو په شان دي په دوئ کی چی په کم یوه پسی اقتداء وکړی هدایت به پیدا کی.

صحابه کرام ﷺ په امت کی دټولو څخه زیات نرم دله ترټولو زیات دژور علم لرونکی دټولو څخه کم تکلف لرونکی اوپه حسن بیان کی دټولو څخه لوړ دی په همدی ډول په ایمان کی دټولو څخه رښتینی په خیر خواهي کی دټولو څخه مخکی او دوسیلی په اعتبار الله پاك ته ترټولو قریب وه.

دصاحبِ فتوٰی صحابه کرامو ﷺ تعداد: صحابهٔ کرام ﷺ په خپل مینځ دفهم اوفراست اوذهانت اوذکاوت په اعتبار مختلفي درجې درلودونکي وه په دوی کی چی کم صاحب فتوٰی وه دهغوی دشمیر متعلق دحافظ ابن القیم ؒ بیان دی چی هغه څه دپاسه یوسلو اودیرش (۱۳۰) دی چی په دوی کی سړی او زنانه دواړه شامل دی په دغو څه دپاسه یو سل او دیرشو کی اووه په مکثرینو کی شمیرل سوی دی داهغه بزرګان وه چی دکمو فتواوی داحادیثو په کتابونوکی په کثرت سره منقولي دی او ویل سوی دی چی که چیري ددغو ټولو حضراتو فتاوٰی یوځای کړل سی نو په هغو کی به دهر یوه دفتاوی تعداد دومره سی چی دهغې څخه به ضخیم جلدونه تیار سی بلکه حافظ ابن القیم لیکلی دی چی ابوبکر بن موسٰی بن مامون دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ فتاوی جمع کړیده چي دهغو شل جزئونه دی، ددغو اوو صحابه ؤ ﷺ چي په کثرت سره یې فتواوي ورکړیدي نومونه دادی:

حضرت عمر بن الخطاب، حضرت علی بن ابی طالب، حضرت عبد الله بن مسعود، حضرت ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه، حضرت زید بن ثابت، حضرت عبد الله بن عباس، حضرت عبد الله بن عمر ﷺ .

دَصحابه کرامو ﷺ څخه وروسته فتواوی: بیا ددغه حضراتو اودنورو صحابه کرامو (رض) په ذریعه ددین علومو نشو نما وموندله او ددی سره دریدلی نه ده بلکه تراوسه

پوری مسلسله جاری روانه ده اوکامل یقین دی چی ترقیامته پوری به په همدی شان جاری وی چنانچه دصحابه کرامو (رض) وروسته تابعینو دتابعینو څخه وروسته تبع تابعینو بیا ددوی څخه وروسته علماؤ او فقهاؤ دغه سلسله جاری ساتلي ده.
حنفي فقه: فقه حنفی خو ټوله دکتاب الله اوسنت رسول الله ﷺ اوصحابه کرامو داقوالو څخه مستفاده ده مګر ددی داسناد سلسله حضرت عبدالله بن مسعود (رض) حضرت عمر (رض) حضرت عبد الله بن عباس (رض) اوحضرت علی کرم الله وجهه ته په رسیدلو سره منتهی کیږی چی په اولین ایمان راوړونکو کی دی او ددې څخه علاوه دهغه صحابهٔ کرامو (رض) څخه هم نقل سوی دی دکمو دشاګردانو څخه چی حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله علیه استفاده کړیده دکمو تعداد چی زیات او لږ مؤرخینو څلور زره ۴۰۰۰ لیکلی دی دَحضرت عبد الله بن مسعود (رض) په هکله څوك چی دحنفی فقه دمورث اعلٰی حیثیت لری، آنحضرت ﷺ پر یوه موقع ارشاد فرمایلی دی:
رضیت لامتی ما رضی لها ابن ام عبد یعنی عبد الله بن مسعود (رض) (الاکمال).
ما دخپل امت دپاره هغه څه خوښ کړل کم چی عبد الله بن مسعود (رض) پسند کړل.
امام نووی رحمة الله علیه په خپل کتاب التقریب کی دحضرت مسروق رحمة الله علیه دا روایت نقل کړی دی چی:
انتهٰی علم الصحابه الی ستة عمر رضی الله عنه، وعلی رضی الله عنه وابیّ رضی الله عنه وزید رضی الله عنه وابی الدرداء رضی الله عنه وابن مسعود رضی الله عنه (ردالمحتار ج۱ ص۴۶).
دصحابه کرامو رضی الله عنهم علم په شپږو کسانو کي راټول سویدی: عمر رضی الله عنه، اوعلی رضی الله عنه اوابیّ رضی الله عنه اوزید رضی الله عنه اوابی الدرداء رضی الله عنه اوابن مسعود رضی الله عنه ، پیا ددې شپږو کسانو ټول علم په علي او عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما کي راجمع دی.
دحضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه (چي وفات یې په سنه ۲۳هـ کی سوی دی) اودنورو صحابه کرامو (رضی الله عنهم) څخه دکتاب اودسنت علم حضرت علقمه رحمة الله علیه حاصل کړی چي پیدائش یی په حیات نبوی ﷺ کی سوی ؤ او دهغوی څخه یې علاوه دحضرت عمر حضرت علی اوحضرت ابوالدرداء اودحضرت عائشه رضی الله عنهم څخه هم په خصوصی طور سره تعلیم حاصل کړیدی دحضرت علقمه رحمة الله علیه څخه حضرت ابراهیم النخعی (المتوفی سنة ۲۹هـ) او دحضرت ابراهیم النخعی رحمة الله علیه څخه حماد بن مسلم الکوفی رحمة الله علیه (المتوفی سنة ۱۱۰هـ) تعلیم حاصل کړی دی اودحضرت حماد بن مسلم الکوفی رحمة الله علیه څخه حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله علیه (المتولد سنه۸۰ هـ والمفتی سنه ۱۵۰ هـ)، او دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه څخه امام ابویوسف، امام محمد، اوامام زفر

اونورو حضراتو په سوونو علماؤ اومشائخو رحمة الله علیه علم حاصل کی اوپه دې ډول دغه حنفی فقه په ټول عالم کی خپره سوه اودملا علی قاری رحمة الله علیه په قول دوې حصې ددرو څخه مسلمانان په دی فقه باندی عمل کونکی په نظر راغلل او تراوسه پوری همداسي راروان دي.

ددار العلوم دار الافتاء: اوکه ریشتیا پوښتنه وکړی نو همدغه سلسله چلیدله او زموږ تردی دوره پوری را رسیدلی ده هسی خو نوری سلسلې هم په دی کی راغلی او ورسره یوځای سویدی دکم چی دټولو څخه لوی مرکز په دی وخت کی دعالم اسلام دار العلوم دیوبند دی چیري چی دکتاب او دسنت او فقهی او دفتاوی دتعلیم یوخاص اسلوب اومخصوص معیار دی اوکم ته چی داوخت بحمد الله بین المللی حیثیت حاصل دی اوکم ځای ته چی په دی وخت کي دهندوستان، پاکستان، افغانستان، برما، ملایا، تبت، افریقه، انډونیشیا، نیپال اودنورو ملکونو طالبان حاضریږی اوخپله علمی تنده ماتوی.

دافتاء اهمیت: افتاء یوه مهمه ذمه داری ده اودا وجه ده چی اسلافو به ددی ذمه داری دقبلولو څخه احتراز کوی اوڅوك چی به هغوی دخپل ځان څخه په علم اوعمل کی برتر ګڼی دهغه پرسر به یی داذمه داری اچول غوښتل بیاپه دی باب کی دهغوی داحال ؤ چی دمسئلې مستفسره صحیح صورت به معلوم سو بلا تکلفه به یی وښووی اوکه معلوم به نه سو نو په صفایی سره به یی ویل چی موږ ته دامسئله معلومه نه ده دیو بل چا څخه دي پوښتنه وکړل سی، خبره په زوره را ایستل، تکلف او تصنُّع به یی په هیڅ حال کی نه خوښول.

دافتاء دپاره علم او فهم: حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمایی چه کم سړی دپوښتنه کونکی دهرسوال جواب بې له سوچ اوپوهی څخه ورکوی هغه پاګل دی الفاظ یې دادی: ان من افتی الناس فی کل ما یسألونه عنه لمجنون (اعلام الموقعین ص۱۲ ج۱) یعني څوك چی دخلګو دټولو سوالونو دجواب دپاره تیار ناست وی هغه پاګل دی.

دحضرت سعید بن سحنون رحمة الله علیه بیان دی: اجرأ الناس علی الفتیا اقلهم علمًا (ایضا) یعني پر فتوٰی باندی دلاوره کیدل دقلت علم، ناتجربه کاری، اودکم عقل توب دلیل دی ځکه کله چی دانسان علم کم وی نوهغه دهر سوال جواب ورکوی بغیر دسوچ اوفکر او دپوهی څخه.

دمفتی فریضه: داحقیقت دی چی چاته دخپلی ذمه داری احساس وی نوداستفتاء په جواب ورکولو او لیکلو کی به دپوره بصیرت څخه کار اخلی اوپه سوچ او عقل جواب ورکوی که معلومه نه وی ورته نودا دي ووایی چی دنورو علماؤ څخه تحقیق وکړی

اوچاته چې دخپلې ذمه داری پوره احساس نه وی اوخوك چې دخپل مفتي كيدو رعب قائمول خوښوی نو دهغه دنظر په وړاندي به يوازي داخبره وی چې زما ژبه دسائل پر سوال باندی بنده نه سی اوچاته معلومه نه سی چې څه داسی مسئلې سته چې دهغو جواب زه نه سم ورکولی اودا خو معلومه سوي خبره ده چې دغه ډول سوچ کوونکی جاهل دی.

حضرت عبد الله بن مسعود (رض) په دی سلسله کی قیمتی لارښووني فرمایلی دی اوهدايت يې هم مدلل فرمايلی دی:

يا أيها الناس من علم شيئا فليقل به ومن لم يعلم فليقل الله أعلم فإن من العلم أن يقول لما لا تعلم الله أعلم. قال الله تعالى لنبيه (قل ما أسألكم عليه من أجر وما أنا من المتكلفين) متفق عليه، مشكوة كتاب العلم.

ای خلګو کم څوك چې ديو شي علم لری هغه لره په کاردی چې هغه بيان کړی، اوپه کم شي چې علم نه لري هلته دا ويل پکار دي چې الله تعالى ښه پوهيږي، ځکه چې داهم يو علم دی چې په کمه خبره نه پوهيږی دهغی متعلق ووايه چې الله ﷻ زيات پوهيږی، الله تعالى خپل نبی کريم ﷺ ته ارشاد فرمايلی دی چې زه ستاسي څخه اجرت غوښتونکی نه يم اونه دتکلف کوونکو څخه يم.

دالله تعالى بيره: لیکن په اصل کی مفتی هغه دی چې دجواب ورکولو په وخت کي په خپل زړه کی دخوف خدا پوره احساس ولری اوچې په پوره غور اوفکر سره جواب ورکړی تر څو چې دهغه په خپل علم کی کمه غلطی باقی پاته نه سی مفتی بايد داحديث پاك هروخت دخپل نظر په وړاندي وساتی دآنحضرت ﷺ ارشاد دی:

من قال علّي ما لم اقل فليتبوأ بيتًا في جهنّم ومن أفتى بغير علم كان اثمه على من افتاه (رواه ابو داود مشكوٰة كتاب العلم)، يعني څوك چي ماته نسبت وکړي دداسي خبري چي نه وي کړي، ګواکي چي ده په دوږخ کي کور جوړ کړی او څوك چي فتوٰی ورکړي پرته له علمه نو ګناه يې پرهغه چا ده چي فتوٰی يې ورکړيده.

فكر او غور: ددی حديث دمعنٰی بيانولو په باره کی ملاعلی قاری رحمة الله عليه تحرير فرمايی:

يعنى كل جاهل يسأل عالما عن مسئلة فافتاه العالم بجواب باطل فعمل السائل بها لم يعلم بطلانها فاثمه على المفتى ان قصر في اجتهاده (مرقات ج۱ ص۲۳۲).

يعنی که يو جاهل ديو عالم څخه ديوې مسئلی پوښتنه وکړی او هغه عالم غلط جواب

ورکړي او سوال کونکي په دي غلط جواب باندي دخپل عدم واقفيت په وجه عمل وکړي نو ددي گناه او وبال پرمفتي باندي دي که دهغه دطرف څخه دصحيح جواب په پلټنه کي کوتاهي سوي وي.
او اصولاً ذمه داري پرمفتي باندي ده ځکه چي دده غلطي ډيره نقصاني ده فتوٰی عامه وي صرف ترسائل پوري ددي حکم محدود نه وي بلکه چاته چي هم دمسئلي دغه مخصوص صورت پيښ سي نو دمسئلي په هغه صورت به عمل وکړي چي مفتي په جواب کي ليکلي دي.
دمستفتي (يعني فتوا غوښتونکي) فريضه: په دي حديث پاك کي بعضو خلګو دويم (افتٰی) په معنی د(استفتی) کي ليکلي دی اودا مطلب يي بيان کړي دي چي گناه به پرمستفتي باندي وي چي هغه بغير دپوهي اوفکر څخه دداسي کس څخه پوښتنه کوي چي ددي اهل نه ؤ.
قال الاشرف وزين العرب يجوز ان يكون افتٰی الثانی بمعنی استفتی وافتٰی الاول معروفاً ای كان اثمه علٰی من استفتاه فانه جعله فی معرض الافتاء بغير علم (مرقات ج۱ ص۳۲۵).
اشرف اوزين العرب ويلي دي چي داهم درست دي چي دوهم لفظ دافتٰی داستفتٰی په معنٰی سی او اول افتی په معنٰی معروف سي اومطلب به داوي چي ددي گناه به پرهغه کس باندي وي کم چي پوښتنه کړيده ځکه چي ده بغير دپوهي او فکر څخه هغه مفتي جوړ کړي دي.
دمفتي اومستفتي دواړو فريضه ده چي هغوي په دي باب کي داحتياط څخه کار واخلي مستفتي لره په کاردي چي هغه وګوري چي دچا څخه دمسئلي پوښتنه کوي هغه ددي منصب لائق دي اوکه نه؟ ابن سيرين رحمة الله عليه دديني علومو په سلسله کي فرمايلي دي:
قال ان هذا العلم دين فانظروا عمن تاخذون دينكم (رواه مسلم، مشكوة كتاب العلم ص۷۳). يعني ويلي يي دي چي دا علم دين دي په ښه ډول سره وګوري چي تاسو دچا څخه خپل دين حاصلوئ.
نالائق مفتي داسلام په نظرکي: اودمفتي فريضه ده که چيري هغه ددي منصب لائق نه وي نوبيا دي هرګز دافتاء جرأت نه کوي که نه نو هغه به ګنهګار اوسخت مجرم وي اوکم صاحب اقتدار چي هغه په دي منصب باندي فائز کړي دي هغه به ګنهګار وي ابن قيم رحمة الله عليه ليکلي دي:
من افتی الناس وليس باهل للفتوٰی فهو آثم عاص ومن اقره من ولاة الامور علی ذلک فهوآثم ايضا

(اعلام الموقعين ج۲ ص۲۵٦) .

يعني څوك چې دنا اهلي باوجود خلګو ته فتوی ورکوی هغه ګنهګار اونافرمان دی او دذمه دارانو اوحاکمانوڅخه چې کم څوك هغه پردی منصب باندی وټاکی هغه هم ګنهګار دی.

نا اهله مفتي او دوخت دحکومت فريضه: ابن الجوزی رحمة الله عليه اونورو علماؤ ليکلي دي چې دواکدارنو دا فريضه ده چې داسي نا اهل مفتيان دکار څخه په سختی سره منع کړی ځکه چې ددی داسی مثال دی چې څوك لاره نه پيژني اوبيا دقافلي په راهنمائی باندی مامور کړل سی يا پخپله مخ ته سی، يا دهغه ډاکټر او دطبيب په شان دی کم ته چې معلوم نه وی چې مرض څه شی دی اوعلاج شروع کړی، په حديث کی دغه ډول طبيب دعلاج څخه منع کړل سوی دی اوپه اسلامی قانون کی دغه معالج مجرم دی همدا حال دهغه نا اهل مفتی دی په ابن ماجه کی مرفوع حديث دی چې آنحضرت ﷺ فرمايلی دی:
من افتی بفتيا بغير علم کان اثم ذٰلك علی الذی افتاه (اعلام الموقعين ج۲ ص۲۵۷)
يعني کم څوك چې بغير دعلم څخه فتویٰ ورکړی ددی ګناه به پرهغه چا باندی وی چې فتوی ورکوی يعنی مفتی به ګنهګار وی.

دقيامت په علامو او نښانو کی: په صحيحينوکی حديث دی چې نبی کريم ﷺ فرمايلی دی:
إن الله لا يقبض العلم انتزاعا ينتزعه عن صدور الرجال ولکن يقبض العلم بقبض العلماء فإذا لم يبق عالم اتخذ الناس رءوسا جهالا فسئلوا فأفتوا بغير علم فضلوا وأضلوا، متفق عليه (مشکوٰة کتاب العلم ص۳۳).

يعني الله تعالی علم په دې ډول نه ختموی چې دخلګو دسينو څخه يې په زور را وباسی بلکه علم به دعالمانو په وفات کيدو سره ختميږی هغه وخت چې څوك عالم پاته نه سی نو هغه وخت به خلګ جاهلان خپل سرداران جوړ کړی نو دا سرداران خلګ به خپله هم ګمراه وی او نور به هم ګمراه کړی.

بغير دعلم څخه فتویٰ: يعنی کله چې مفتی او قاضی جاهل جوړ کړل سی نوبيا ددې څخه ماسوا دګمراهي او بربادی نور هيڅ نه حاصليږی ابن القيم دابوالفرج رحمة الله عليه په حواله سره دا مرفوع اثر نقل کړيدی چې آنحضرت ﷺ فرمايلی دی:
من افتی الناس بغير علم لعنه ملائکة السمآء وملائکة الارض (اعلام الموقعين ج۲ ص۲۵۲) يعني کم څوك چې بغير دعلمی بصيرت څخه دافتاء کار سرته رسوی پر هغه باندی دمځکی او داسمان ملائکی لعنت ليږی.

دامام مالك رحمه الله علیه **فرمان**: امام مالك رحمه الله علیه ډیره غوره خبره فرمایلې ده چې دچا څخه دکمی مسئلی پوښتنه وکړل سی هغه ته په کاردی چې دجواب څخه مخکې خپل ځان ته جنت او دوږخ را وړاندي کړی اوسوچ دي وکړی چې په اخرت کې به خلاصون څنګه راته حاصلیږی.

امام مالك رحمه الله علیه **او فتوٰی**: پخپله دامام مالك رحمه الله علیه داحال ؤ چې یوځل چا دهغه څخه دیوی مسئلی په باره کې پوښتنه وکړه هغوی په جواب کې وفرمایل چې ماته داخبره معلومه نه ده هغه کس وویل چې دومره وړه غوندی مسئله ده او تاسي داسی فرمایاست چي راته معلومه نه ده، ددی په اوریدو سره هغه ډیر غصه سو اووی فرمایل:

لیس فی العلم شيء خفیف اما سمعت قول الله عز وجل: انا سنلقی علیك قولا ثقیلا فالعلم کله ثقیل الخ (اعلام الموقعین ج۲ ص۲۷۵) یعني په علم کی هیڅ شی خفیف نه وی آیا تا دا آیت نه دی اوریدلی: انا سنلقی الآیة، یعني البته اچوو به موږ پرتا باندی یوه درنه خبره، لهذا علم ټول درونډ دی، او ددی سره یی داهم وفرمایل:

ما أفتیت حتی شهد لی سبعون انی اهل لذلك (ایضا) یعني ما ترهغه وخته پوری دفتوی جرأت ونه کړی ترڅو چې اویا اکابرو عالمانو زما داهلیت شاهدي نه ده ورکړی.

دَامام احمد بن حنبل قول: امام احمد رحمه الله علیه فرمایی چې چا خپل ځان دفتوٰی دپاره پیش کړیدی نوده عظیم امر پورته کړی کله چې ضرورت یی مجبوره نه کړی نو پردی منصب باندی دفائز کیدو جرأت دي نه کوی.

سعید بن المسیب رحمه الله علیه: دسعید بن مسیب په شان شخص چې به کله فتوٰی ورکوله نودهغه پرژبه باندی دا کلمې وې:

اَللّٰهم سلمنی وسلم منی (اعلام ج۲ ص۲۵۷) یعني ای الله پاکه ما پخپله هم سلامت وساتی چې غلطی را څخه ونه سی او نور خلګ هم زما څخه محفوظ وساتی چې نور زما په وجه په غلطی کی مبتلاء نه سی.

دَقاسم بن محمد رحمه الله علیه **جواب**: دقاسم بن محمد بن ابی بکر الصدیق رضی الله عنهم څخه چا دیوې خبری پوښتنه وکړه هغوی جواب ورکړی چې ماته دامسئله په ښه ډول سره معلومه نه ده هغه شخص ورته وویل چې ما ستا څخه پرته هیڅوك ددې منصب وړ نه بلی ځکه خو نو تاته راغلم، حضرت قاسم بن محمد ورته وویل:

لا تنظر الی طول لحیتي وکثرة الناس حولی (ایضا) یعني زما دې اوږدی ږیری ته اوپرما چاپیره دخلګو ډیروالی ته مه ګوره.

دااوددی په شان نورپه سلګونوواقعات دي چې دهغوڅخه معلومیږی چې سلف صالحینو

به دافتاء په سلسله کی ډیرا هتمام کوی اوپه هغوی کی به پر دی منصب باندی هغه چا دفائز کیدلو همت کوی چی په دینی علومو کی به په هر ډول پوره او باکمال ؤ.

دمفتی دپاره شرائط: دهمدغه اهمیت له امله امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه فرمایی: پرمسند دافتاء باندی هغه ځوك دکښېښستلو جرأت کوی چی هغه دقرآن پاك، اسانیدِ صحیحه اوسنن نبوی ﷺ څخه په پوره طور خبروی، یوځل هغوی وفرمایل: لا یجوز الفتیا الا لرجل عالم بالکتاب والسنة (اعلام الموقعین ج۲ ص۲۵۲) فتوٰی ورکول جائز نه دی مگر دهغه چا دپاره چی دکتاب اوسنت عالم وی.

موجوده وخت او دافتاء کار: دمفتی دپاره چی دکمو شرائطو موجودوالی ضروری دی پرهغه ټولو اوصافو باندی په پوره طور دمتصف انسان پیدا کیدل نن سبا مشکل دی لیکن په موجوده دورکی کله چی کتب داحادیث اوفقه مدونه اومرتبه سوی اوشائع سویده او دحافظی حال هم دمخکی په ډول پاته سوی نه دی کم چی یو وخت ؤ چی یو عالم ته به څو څو لکه احادیث یاد وه لهذ اوس به دی ته نظر کیږي چی دکمو خلګو دفقهی اوحدیث سره شغف وی په کتاب اوسنت کی ورته مهارت حاصل وی دمطالعی اودکتابو کتنلو ذوقِ سلیم ورته حاصل وی او ددی سره سره یی علوم دینیه باقاعده ددین دعلماؤ څخه سبقًا سبقًا حاصل کړی وی نوپه دوی کی دي هغو خلګو ته داخدمت وسپارل سی چی پرشرعی مسائلو کی دقیق نظر لری ځکه چی اوس په موجوده اصطلاح کی دی ته فقیه ویل کیږی.

ان الفقیه من یدقق النظر فی المسائل وان علم ثلاث مسائل بادلتها (ردالمحتار ج۱ ص۳۵) یعني فقیه هغه دی چی په مسائل شرعیه ؤ کی دقیق نظر لری که څه هم هغه ته دريٍ مسائل ددلائلو سره ولی معلوم نه وی.

علامه ابن عابدین رحمة الله علیه دصاحب التحریر تعریف ته ترجیح ورکړیده هغه دادی: وذکر فی التحریر ان الشائع اطلاقه علی من یحفظ الفروع مطلقا ای سواء کانت بدلائلها اولا (ایضا) یعني په تحریر کی مذکور دی چی په عام طور سره دفقیه اطلاق پرهغه کس باندی کیږی چی هغه ته جزئی مسائل یاد وی که ددلائلو سره وي اوکه ددلائلو څخه بغیر وی.

فقیه او اجتهاد: خبره داده چی دفقه چي کم تعریف اصولیینو کړیدی دهغه حاصل دادی چی دفقیه دپاره مجتهد کیدل ضروری دی.

واصطلاحا عند الاصولیین العلم باحکام الشریعة الفرعیة المکتسب من ادلتها التفصیلیة (الدر المختار علی حاشیة ردالمحتار ج۱ ص۳٤) یعني داصول الفقه دعلماؤ په اصطلاح کی فقه

دهغو شرعی احکامو علم ته وائی کم چی دتفصیلی دلائلو څخه حاصل سوی وی چنانچه په بحر الرائق کی دی:

فالحاصل ان الفقه في الأصول علم الاحکام من دلائلها کما تقدم فلیس الفقیه الا المجتهد عندهم (ردالمحتار ج۱ص۳۵) په همدغه ډول په البحر الرآئق کی هم دی. یعني حاصل دادی چه په اصولِ فقه کی فقه نوم دی دشرعی احکامو دپیژندلو سره ددلائلو لکه چی مخکی تیرسوه ځکه نو همدغه وجه ده چی ددوی په نزد ماسوا دمجتهد څخه هیڅوك فقیه نه دی.

غیر مجتهد فقیه: دا چي مقلد ته نن سبا فقیه ویل کیږی ددې په اړه هغه لیکی: واطلاقه علی المقلد الحافظ للمسائل مجاز (ایضا) یعني دفقیه اطلاق پرهغه مقلد باندی دچاچی مسائل یاد وی په طور دمجاز دی.

فقهاء دفقهی په تعریف کی ددلائلو قید نه لګوی: وعند الفقهاء حفظ الفروع واقله ثلاث (درمختار) یعني دفقهاؤ په نزد دفروعو دیادولو نوم فقه دی چي کمه درجه یې درې مسئلې دي.

دافتاء دپاره داجتهاد شرط: دَومره قدر مسلَّم دی چی اصولینو دفقهی کم تعریف کړی دی ددی مطابق دفقیه اومفتی دواړو دپاره مجتهد کیدل ضروری دی دفقیه متعلق خو تاسو ولوستل، خو دمفتی متعلق ابن الهمام رحمة الله علیه په فتح القدیر کی لیکی: وقد استقر رأی الأصولیین علی ان المفتی هو المجتهد فاما غیر المجتهد ممن یحفظ اقوال المجتهد فلیس بمفت (ردالمحتار ج۱ ص٦٤) یعني داصولینو رأی پردی باندی فیصله سویده چی مفتی هغه څوك دی چی مجتهد وی اوهغه غیر مجتهد شخص چی دمجتهد اقوال په یاد ساتی مفتی نه دی بیا مخ ته هغوی ددې صراحت کړی دی چی دموجوده مقلدینو علماؤ فتوٰی په اصل کی فتوٰی نه ده نقل دفتوٰی دی:

فعرف ان ما یکون فی زماننا من فتوٰی الموجودین لیس بفتوٰی بل هو نقل کلام المفتی یاخذ به المستفی (ردالمحتار ج۱ ص٦٤) نومعلومه سوه چی زموږ دغه دموجوده علماؤ فتوٰی حقیقةً فتوٰی نه ده بلکه دمفتی دکلام نقل دی ددې لپاره چی مستفتی هغه اختیار کړی اوعمل په وکړی.

په موجوده دورکی دافتاء کار: ددې خلاصه داسوه چی زموږ په زمانه کی دافتاء دکار سرته رسوونکو علماؤ ته مجازاً مفتی ویل کیږی لیکن په دی زمانـــه کی دداسی علماؤ

دپاره هم په فقه کی پوره مهارت ضروری دی، علامه ابن عابدین رحمة الله علیه لیکی:
وقد رأيت فى فتاوٰى العلامه ابن حجر سئل فى شخص يقرأ ويطالع فى الكتب الفقهية بنفسه ولم يكن له شيخ ويفتي ويعتمد على مطالعة الكتب فهل يجوز له ذلك أم لا؟ فأجاب بقوله لا يجوز له الإفتاء بوجه من الوجوه لأنه عامي جاهل لا لا يدري ما يقول بل الذي يأخذ العلم عن المشائخ المعتبرين (شرح عقود رسم المفتي ص۸).
ما دعلامه ابن حجر په فتاوی کی داخبره لیدلی ده چی دهغه څخه دیو داسی چا متعلق پوښتنه وکړل سوه چی دفقهی کتابونه لولی او پخپله یې مطالعه کوی اوڅوك دهغه استاذ نه وی اوهغه دخپلو کتابونو په مطالعه باندی داعتماد په وجه دافتاء کار کوی نو آیا دا دهغه لپاره درست دی اوکه نه؟ هغه جواب ورکړی چی په هیڅ ډول دهغه دپاره دافتاء کار درست نه دی ځکه چی په حقیقت کی هغه جاهل اوعامی دی هغه ته پخپله معلوم نه دی چی څه وایی بلکه فتوٰی ورکول دهغو کسانو کاردی کمو چی دمستندو علماؤ او مشائخو څخه علم حاصل کړی وی.
دَمعتمدو علمآؤ صحبت: ددې څخه داخبره په ښکاره ډول واضحه سوه چی صرف په مطالعه اوکتابو کتلو سره اګر چي هرڅومره معلومات ولی حاصل نه سی مګر بیا هم په هیڅ درجه کی داعتماد قابل نه دی بلکه هغه دعامی او دجاهل په درجه کی دی دقابل اعتماد کیدلو دپاره دا ضروری دی چی هغه دینی علوم دمعتمدو دینی عالمانو څخه په قانوني شکل سره حاصل کړی وي او دبصیرت څښتن وي، یوازي دڅو کتابونو ویل کافي نه دی، لکه څنګه چي مخ ته مذکور دی:
لا يجوز له ان يفتي من كتاب ولا من كتابين بل قال النووي رحمه الله ولا من عشرة فان العشرة والعشرين قد يعتمدون كلهم على مقالة ضعيفة في المذهب فلا يجوز تقليدهم فيها (شرح عقود رسم المفتي ص۸).
یعني دداسی چا دپاره دیو دوو کتابونو څخه فتوٰی ورکول جائز نه دی بلکه دامام نووی رحمة الله علیه قول دی چی دلسو شلو څخه هم نه دی ورکول جائز، ځکه چی کله کله دا لس او شل ټول دمذهب په باب کی پریوه کمزوری خبره باندی اعتماد کوی لهذ دهغوی تقلید درست نه دی.
دافتاء دپاره ضروری شرائط: چاته چی په فقه کی بصیرت تامه حاصل وی او دفتوٰی صلاحیت ولری البته هغه شخص فتوی ورکولی سي، دلاندی شرائطو دي په غور سره مطالعه وکړل سی، لیکی:

بخلاف الماهر الذی اخذ العلم عن اهله وصارت له فيه ملكة نفسانية فانه يميز الصحيح من غيره ويعلم المسائل وما يتعلق بها على الوجه المعتمد به فهذا هو الذي يفتي الناس ويصلح ان يكون واسطة بينهم وبين الله تعالى (ايضا).

البته داسی ماهر شخص فتوٰی ورکولی سي چی هغه علم دلائق او فائق عالم او داهل علم څخه حاصل کړی وی اوهغه ته پخپله په فن کی مهارت تامه اوملکه راسخه په دې ډول سره حاصله سوی وی چی هغه صحیح دغیر صحیح څخه متمیز کړی سی او دمسائلو او ددی دمتعلقاتو څخه په قابل اعتماد طور سره خبر وی، دا البته داسی شخص دی چی خلګو ته فتوٰی ورکولی سي او ددی لائق دی چی هغه دبندګانو او دباری تعالٰی په مینځ کی واسطه وګرځی.

دماهر استاذ څخه تربیت یافته کیدل: بیا هم داضروری ده چی هغه دیو ماهر استاذ څخه تربیت یافته وی او دشرعی قواعدو صحیح معرفت لری:

فان المتقدمين شرطوا فى المفتى الاجتهاد وهذا مفقود فى زماننا فلا اقل من ان يشترط فيه معرفة المسائل بشروطها وقيودها التى كثيرا ما يسقطونها ولا يصرحون بها اعتمادا على فهم المتفقه (شرح عقود رسم المفتى ص ۳۰).

متقدمینو دمفتی دَپاره دَاجتهاد شرط بیان کړی دی کم چه زموږ په دې دورکی مفقود دی، لهذ اوس به کم از کم دومره شرط ضرور لګول کیږي چی هغه باید دَمسائلو معرفت دهغه ټولو قیوداتو او شروطو سره ولری کم چی ډیر وختونه مصنفین په دی اعتماد پریږدی او صراحت یی نه کوی چی فقیه به په دا باندی په خپله پوهیږی.

دزمانی دعُرف او دعادت څخه خبرتیا: دَزمانی دعرف او اهل زمانی داحوالو څخه واقف کیدل هم ضروری دی:

وکذا لا بد له من معرفة عرف زمانه واحوال اهله (ایضًا) یعني همدارنګه دمفتی دپاره دزمانی دعرف پیژندل او دخپل دور داشخاصو داحوالو څخه معرفت هم ضروری دی.

دفقه دماهر شاګردی: چي دیو قابل اعتماد ماهر فقیه اومفتی سره پاته سوی وی اودفتوٰی لیکلو سلیقه یی باضابطه زده کړی وی:

والتخرج في ذلک على استاذ ماهر ولذا قال في آخر منية المفتي لو ان الرجل حفظ جميع كتب اصحابنا لا بد ان يتلمذ للفتوٰى حتى يهتدي اليه. (ايضا)

اوهغه دي دیو ماهر استاذ څخه تربیت یافته وی او دهمدی وجهی څخه دمنية المفتی په اخرکی صراحت دی چی که څه هم چي هغه کس دائمهٔ احنافو ټول کتابونه یادکړی وی خو

بیاهم دهغه دپاره داخبره ضروری ده چې دفتوٰی دپاره هغه شاګردی اختیار کړی وی او دهغی لاری څخه یې معلوم کړی وی.
داخبره ضروری ده چه دفتوٰی دَپاره هغه تلمیذی اختیار کړی وی. دَدی وجه څخه لیکی:
لان كثيرا من المسائل يجاب عنه علٰى عادات اهل الزمان فيما لا يخالف الشريعة (ايضاً).
ددې وجه څخه چې دډیرو مسائلو جواب داهل زمانی دعاداتو په لحاظ سره ورکول کیږی چې په هغوی کی دشریعت مخالفت نه وی.
دزمانی دعُرف رعايت: دزمانی دَعرف رعایت پرمفتی باندی ضرور ګرځول سویدی اوهم پرقاضی باندی:
وفي القنية ليس للمفتي ولا للقاضي ان يحكما على ظاهر المذهب ويتركا العرف، وهذا صريح فيما قلنا ان المفتي لا يفتي بخلاف عرف زمانه (شرح عقود رسم المفتي ص ٤٠).
په قنیه کی دی چې دمفتی اوقاضی دپاره درست نه دی چې دعرفِ زمانه څخه مخ اړول وکړی صرف په ظاهر مذهب باندی فیصله وکړی.
ددې څخه صراحتًا دا هم ثابته سوه چې مفتی دې دخپلې زمانی دعرف خلاف فتوٰی نه ورکوی لکه چې موږ ویلی دی. دَعرف دبدلیدو څخه مفتی لره خبریدل په کاردی:
فللمفتی اتباع عرفه الحادث فی الالفاظ العرفية (ایضا) یعني مفتی لره په کار دی چې هغه دزمانی درسم او رواج په خپلو الفاظو عرفیهؤ کی رعایت وکړی.
دَزمانی داحوالو څخه دَخبرتیا قید او ددې وجه: دمفتی دپاره دزمانې دعرف او داحوالو دعلم قید ولی لګولی سوی دی. په دې اړه لیکی چې:
ظهر لک ان جمود المفتي او القاضي على ظاهر المنقول مع ترک العرف والقرائن الواضحة والجهل باحوال الناس يلزم منه تضيع حقوق كثيرة وظلم خلق كثيرين (ايضا ص٤١).
یعني کم څه چې عرض کړل سوه دهغه څخه به پرتاسی باندی داخبره عیان سوی وی چې که مفتی او قاضی عرف اوقرائنِ واضحه ترك کړی او دخلګو دحالاتو څخه بی خبره پاته سی اوپر ظاهر باندی ټینګ ؤ نو بیا یقین کول په کاردی چې په دې ډول به ډیر حقوق ضائع کول اوپر ډیرو خلګو باندی به ظلم کول لازم سی، ځکه نو ددې وجه څخه یې لیکلی دی:
فلا بد للمفتی من معرفة احوال الناس وقد قالوا من جهل باهل زمانه فهو جاهل (ایضاً).
یعني لهذا دمفتی دپاره داشخاصو داحوالو معرفت ضروری دی او داهلِ علمو دا فیصله ده چې څوك دخپلی زمانی خلګ ونه پیژنی هغه جاهل دی.

په مناقب کردری کی ذکر سویدی چی امام محمد ؒ به درنگریزانو خوا ته تشریف وروړی او دهغوی دمعاملاتو په سلسله کی به یی معلومات حاصلول او په هغوی کی چی کم رواج ؤ دهغه معلومات به یی کوی.
دغلطیو څخه محفوظ کیدل: دمفتی دپاره داهم ضرور ګرځول سوی دی چی دهغه څخه به غلطیانی ډیری کمی واقع کیږي که نه نو لائق دافتاء نه سی کیدی:
ولا يصير اهلاً للفتوٰى ما لم يصر صوابه اكثر من خطأه لان الصواب متٰى كثر فقد غلب ولا عبرة في المغلوب بمقابلة الغالب فان امور الشرع مبنية على الاعم الاغلب كذا في الولوالجية (شرح عقود رسم المفتی ص۲۲).
یعني تر هغه وخته پوری پرمسند دافتاء باندی دناستی لائق هیڅ یومفتی نه سی کیدی ترڅو پوری چی دهغه صحیحی فتواوي دهغه ترغلطیو زیاتي نه وی ددی وجه چی داکثرو مسئلو دجواب صحت دغلبی په حیثیت کی دی او دغالب په مقابله کی مغلوب لره هیڅ اعتبار نه سی کیدی ځکه چی دشرعی امورو دار ومدار پر عموم اوپر اغلب باندی دی.
کم څه چی عرض کړل سوه دهغو څخه دومره خبره واضحه مخ ته راغله چی په اهل علمو کی په دی منصب باندی هغه حضرات فائز کیږی اوفائز وی چی په هغوکی علمی استعداد په دی درجه باندی وی چی هغوی دا مهم (۱) کار په حسن او خوبی سره ترسره کړی تردی ځای پوری پرعلمی استعدادباندی بحث کیدی نوراوصاف مخ ته راروان دی.
دنا اهله مفتي تعزیر: لیکن که څوك دمفتی جوړیدلو اهل نه وی اوهغه جوړ سوی وی نو دهغه تعزیر ضروری دی په دی سلسله کی هیڅ رعایت کول نه دی په کار ځکه چی مفتی خو په ظاهره دبندګانو اودالله تعالٰی ترمینځ واسطه وی نوځکه که داسی اشخاص منع نه کړل سی نو دمفاسدو دروازی به خلاصي سی او دباری تعالٰی مخلوق به په ګمراهی کی مبتلا سی.
واما غيره فيلزمه اذا تسور هذا المنصب الشريف التعزير البليغ والزجر الشديد الزاجر وذلك لان إمتثاله لهذا الامر القبيح يؤدى الى المفاسد لا تحصى (شرح عقود رسم المفتى ص۷).

---

(۱). دمفتی دپاره صرف دبالغ کیدو شرط دی لکه چی را روان دی دیو مخصوص عمر قید نسته چی مثلاً هغه دي ددې عمر وی یا چي بوډا وی نو هغه ته به ترجیح ورکول کیږي: ولا يعتبر السن ولا كثرة العدد لان الاصغر الواحد قد يوافق للصواب فی حادثة ما لا يوفق الاكبر والجماعة الخ (معين الحكام ص۳۰) بیایي دحضرت عبد الله بن عباس ؓ واقعه را نقل کړی ده. ظفیر مفتاحی ؒ

ثوك چې دافتناء لائق نه وی اوهغه په دی عظیم منصب باندی ځان مقرر کړی دهغه تعزیر په شدت سره لازم دی اوداسی سختنی ددغه ډول خلګو سره ځکه په کارده چې هغه بیا داسی جرأت ونه کړی سی ځکه چې که داسی ونه سی نو دبی انتهاء مفاسدو دروازې به خلاصي سی.

دابن خلدون رحمة الله عليه **څرګندونه**: ابن خلدون رحمة الله عليه هم لیکلی دی چې ددینی حکمت په فرائضو کی داهم داخل دی چې هغه پرمنصب دافتناء باندی لائق او قابل شخص تلاش اوفائز کړی اوکم ثوك چې ددی لائق نه وی اودا کار انجاموی هغه دي په سختنی سره منع کړی:

وأما الفتيا فللخليفة تصفح أهل العلم والتدريس ورد الفتيا إلى من هو أهل لها وإعانته على ذلك ومنع من ليس أهلاً لها وزجره لأنها من مصالح المسلمين في أديانهم فتجب عليه مراعاتها لئلا يتعرض لذلك من ليس له بأهل فيضل الناس. (مقدمه ابن خلدون ص۱۶۵).

یعني دفتوٰی دپاره دخلیفه دوخت فریضه ده چې هغه دصاحب درس او تدریس او لائق شخص پلټنه وکړی اوبیا دده مدد کول هم په کاردی اوثوك چې اهل نه وی هغه منع کول پکار دی اوپه سختنی سره یی علیحده ساتل په کاردی ځکه چې دا یوه مهمه دینی ذمه داری ده که ددې منصب رعایت ونه سی نو نا اهله خلګ به راسی اوخلګ به په ګمراهی کی واچوی.

دپیر وړ او لائق مفتي لټون: واقعیت همدا دی چې داسی نا اهله منع کول ضروری دی ثوك چې باعث دګمراهی وی، حافظ ابن القیم رحمه الله په دی سلسله کی دخپل شیخ علامه ابن تیمیه رحمه الله واقعه نقل کړی ده چې هغه به دنا اهله مفتي پرمسند افتناء باندي په کښېنستلو سره سخت نکیر کوی او فرمایل به یی چې هغه ته قطعا ددی اجازت نه دی ورکول په کار، آیا داهم یوه خبره ده چې پرهر ترکوچنی لا کوچني کار باندی دي دي حساب وی اوپه دی اندازه مهم کار باندی دي داحتساب ضرورت محسوس نه کړل سی (۱)، طحطاوی دعالمګیری په حواله لیکلی دی:

وعلى ولى الامر ان يبحث عمن يصلح للفتوٰی ويمنع من لا يصلح (طحطاوی على الدر المختار ص۱۷۵ ج۳).

یعني دوالی فرض دی چې هغه دفتوٰی لپاره لایق ترین شخص تلاش کړی اوثوك چې ددی منصب لائق نه وی هغه دي منع کړی.

---

(۱). وګوری: اعلام الموقعین ج۲ ص۲۵۲. ظفیر

دمخ ته راتلونکو مسائلو او واقعاتو دحکم بیانولو نوم په اصطلاح کی فتوٰی ایښودل کیږی که خدای ناخواسته یو کس په علومو دینیه ؤ بالخصوص په احکامِ فروع او اصول کی مهارت ونه لری نو ېخپله سوچ وکړی هغه دکم مرض دواء جوړیدی سی؟ دعلمی استعداد او مهارت سره سره بعض نور اوصاف دی کم چی په یومفتی کی موجودیدل یې بی حده ضروری دی ترڅو چی خپله ذمه داری په حسن او خوبی سره اداء کړی سی.

پنځه خوبیانی: امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه فرمایی چی ترڅو پوری په یو چا کی پنځه شیان نه وی، نو مسند افتاء ته دي دزینت ورکولو جرأت نه کوی: ۱. نیت صالحه ۲. حلم او وقار ۳. په مسائلو کی بصیرت اوپر هغوی باندی ثابت قدمی ۴. دژوندانه اسباب په قدر ضرورت ۵. دخلقو داحوالو معرفت.

۱: **نیت صالحه**: نیت صالحه خو ځکه ضروری دی چی دهرکار جان او روح په اصل کی هم دغه پاك نیت وي، ترڅو چی په نیت کي پاکی او اخلاص نه وی نوپه کارکی برکت نسی کیدی اونه هغه دباري تعالی په نزد قبول او قابل داجر وی بیابه دغه ډول جواب دنورِ الهی څخه خالي وی او دخصوصی برکت څخه محروم وي، حدیث نبوی ﷺ دی: انما الاعمال بالنیات.

۲: **حلم او وقار**: حلم او وقار دهر اهل علم دپاره ډیر ضروری دی ځکه چی ددي څخه په خپله دده ذات ته هم رونق وی او دده علم اوعمل ته هم او دمفتی دپاره په خصوصی طور ځکه چی هغه په خپل منصب باندی دیوی دینی شعبی ذمه دار دی او دعوامو او دخواصو دپاره درهنما حیثیت لری.

۳: **بصیرت او مهارت**: په علم کی بصیرت اوپر خپل بصیرت باندی که اعتماد نه وی نو هغه به دنورو راهنمائی څرنګه وکړی سی اونور به دهغه په تاکل سوی او ښودل سوی صورت باندی په یقین سره څرنګه عمل وکړی.

۴: **دژوندانه اسباب**: په قدر دضرورت دژوندانه داسبابو قید غالبا ددی دپاره لګول سوی دی چی هغه دعوامو په نظرونو کی سپك نه سی او هیچاته ددی جرأت نه وی چی هغه دمفتی په حرص او لالچ کی داچولو سوچ هم وکړی سی.

۵: **داهل زمانی داحوالو څخه خبرتیا**: په دي ډول دخلګو داحوالو څخه دخبرتیا په وجه به هغه په سوالونو باندی په صحیح طور سره وپوهیږی او بیابه صحیح جواب ورکړی.

لوړ کردار اوعفت: دمفتی بلندکردار، عفت مآب، کامل العقل اوصاحب صلاح اوتقوی کیدل هم ضروری دی ددرمختار صاحب چی دقاضی په بحث کی کم ځای دهغه اوصاف شمیرلی دی دمفتی دپاره یی هم دهغه اوصافو نشان دهی کړیده چی په هغه کی دلاندي

درج سوو تمامو اوصافو او خصالو موجود کيدل ضروري دي:
وينبغي أن يكون موثوقا به في عفافه وعقله وصلاحه وفهمه وعلمه بالسنة والآثار ووجوه الفقه والاجتهاد شرط الأولوية لتعذره على أنه يجوز خلو الزمن عنه عند الأكثر ومثله فيما ذكر المفتي (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب القضاء ص۱۷۵ ج٤).
او ضروري دي چې هغه (قاضي) پخپله پارسائي، عقل اوفهم، صلاح اوتقوٰی اودسنت اواثارو اوفقهي په علومو کې قابل اعتماد وي، پاته سو اجتهاد نودا خو صرف داولويت شرط دی ځکه چې داکثرو علماؤ په نزد په هره زمانه کې ددې موجود والی هم ضروري دی.
بردباري او نرم خويي: ددی سره هغوی داهم ليکلي دي:
ويجب ان يكون المفتى حليمًا رزينًا لين القول منبسط الوجه (ايضًا). يعني واجب دی چې مفتي بردبار، سنجيده، متين، شيرين مقاله اوخنده رويه وي.
دينداري: دمفتي دیندار اوخدا ترس کيدل هم ضروري دی ځکه چې فاسق دمسند افتاء لائق نه دی اونه ورته ددی حق حاصل دی فقهاؤ صراحت کړيدی چې فاسق نه مفتي کيدی سی اونه هم دداسی چا څخه استفاده درسته ده:
والفاسق لا يصلح مفتيا لان الفتوى من امور الدين والفاسق لا يقبل قوله فى الديانات الى قوله وظاهر ما فى التحرير انه لا يحل استفتاءه اتفاقا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج٤ ص٤١٨).
فاسق مفتي کيدی نه سی وجه يې داده چې فتوٰی ددينی امورو څخه ده اوپه دياناتو کې دفاسق قول قابل قبول کيدی نه سی په کتاب التحرير کې چې کم څه دی دهغه ماحصل دادی چې دفاسق څخه دمسئلي پوښتنه کول بالاتفاق درست نه دی حقيقت هم دادی چې په مسائل شرعيه ؤ کې خشيت الهی اوطاعت خداوندی دفيضان الهی موجب کيږی ([1]) کم خلګ چې په معصيت کې مبتلاء دی که هغوی ددی توقع لری چې هغوی به په خپل دغه حال کې دفقهي دقائقو او دمسئلي روح ته ورسيږی نودا دهغوی محض خوب اوخيال دی دواقعيت سره ددی څه ليری هم تعلق نه ستنه.
اسلام او عقل او فهم: ددی سره دمفتي دپاره داهم شرط دی چې هغه مسلمان صاحب عقل اوفهم اوبيدار دماغ وی پرده باندی دغفلت اوسهو اونسيان غلبه نه وی: ولا خلاف في

---

(۱). ارشاد نبوی ﷺ دی: ما زهد عبد فى الدنيا الا انبت الله الحكمة فى قلبه وانطق بها لسانه وبصر عيب الدنيا وداءها ودواءها واخرجه سالما الى دار السلام رواه البيهقي في شعب الايمان (كتاب الرقاق ص۴۴۳). ظفير

اشتراط اسلامه وعقله وشرط بعضهم تيقظه (ايضًا) يعني دمفتی دپاره داسلام اودعقل په شرط کی دهیچا اختلاف نه سته بلکه بعض علماؤ ددې وجه بیدار دماغه کیدل هم شرط ګرځولی دی.
دور اند یشي او بیدار دماغ: ابن عابدین شامی رحمة الله علیه لیکی چی په دی دور کی دتیقظ شرط لازم دی:
قلت وهذا الشرط لازم في زماننا والحاصل ان من غفلة المفتي يلزم ضرر عظيم في هذا الزمان (ردالمحتار ج٤ ص ٤١٨).
یعني زه وایم چی دبیدار مغزه کیدو شرط زموږ په دی زمانه کی لازم دی ځکه چی دمفتی دغفلت اوبی پروایی څخه په دی دور کی لوی نقصان لازمیږی.
بالغ او عادل: مفتی به بالغ هم وی اوعادل هم وی:
قال في البحر فشرط المفتي اسلامه وعدالته وألزم منهما بلوغه وعقله فيرد فتوٰی الفاسق والكافر وغير المكلف (طحطاوی علی الدر المختار ج٣ ص١٧٥)
په بحر الرائق کی دی چی دمفتی دپاره کم شرائط دی په هغوی کی دده مسلمان کیدل اوعادل کیدل هم دی او ددغو دواړو شرطونو څخه داهم لازمیږی چی هغه به بالغ او عاقل هم وی لهذا دفاسق کافر او دغیر مکلف فتوٰی به ردیږي.
خوښ کړل سوي ضروري اوصاف: علامه طحطاوی دعالمګیری څخه نقل کړی چی په مفتي کی دلاندي درج سوو اوصافو موجودیدل هم په کار وی:
داستفتاء کاغذات به په احترام سره را اخلی دا به اول په بار بار سره ولولی ترڅو دسوال صحیح صورت دهغه مخ ته څرګند او متعین کړل سوی راسی او داستفتاء دکاغذاتو بی حرمتی دي نه کوی ځکه چی دا دافتاء دادابو څخه خلاف دی، که کله ناکله په جواب کی غلطی واقع سی نو په معلوم کیدو دي فوراً رجوع وکړی دضد او دعناد په وجه دي پر خپله دغه غلطی دصحیح باور کولو فکر نه کوی اوپه رجوع کی دي ننګ اوعار (پېغور) نه محسوسوی، دفتوٰی په غرض په تحقیق کی دي دتساهل څخه کار نه اخلی ولي چی داسی کول دمفتی دپاره حرام دی، دفاسد غرض دپاره دي حیلې په کار نه راولی، په کم وخت کی چی په مزاج کی اعتدال نه وی نوجواب دي نه لیکی بلکه صرف داعتدال په وخت کی دي جواب لیکی، دجواب دلیکلو په وخت او معامله کی دي دهیچا لحاظ او رعایت هرګز نه وی، په کم ترتیب چی ده ته استفتاء راسی نو په هماغه ترتیب دي جواب ورکړی، په دی سلسله کی دي داغنیاؤ امراؤ، دوستانو، احبابو او خپلوانو یعنی اقاربو

داسی رعایت نه کوی چی دهغه څخه دنورو خلګو حق تلفی وسی په دی باب کی په کاردی چی دهغه په وړاندی امیر اوغریب اوشاه اوګدا یو ډول وی او دهیځ یو مستفتی څخه اجرت قبلول نه دی په کار ولي چی دا ددې منصب دشان سره مناسب نه دی.

په مسائلو باندی عبور او دقواعدو علم: ددی تولو څخه زیات داچی مفتی به دخپل امام په مسائلو باندی پوره عبور لری او ددی دقواعدو او اسالیبو څخه به په ښه ډول خبر وی:

ویشترط ان یحفظ مسائل امامه ویعرف قواعده واسالیبه (طحطاوی علی الدرالمختار ص۱۷۵ ج۳).

او دمفتی دپاره داهم شرط دی چی دخپل امام مسائل یی یاد وی اوهغه ددی په قواعدو اواسالیبو کی مهارت ولری.

خبره اوږديږی صرف داویل پکار دی چی دمفتی دذات اوصفات دپاره څه شرائط څه فرائض اوڅه حقوق او اداب دی چی دهغو لحاظ تر ډیره حده پوری دمفتی فریضه ده هسی خو زموږ په نزد دامسئله مصرحه ده چی که چیري دیو مفتی څخه په جواب کی لږ یا ډیره غلطی واقع سی نو هغه به دافتاء څخه فوراً نه معزول کیږی:

وذکر في الملتقط اذا کان صوابه اکثر من خطأه حل له ان یفتي وان لم یکن من اهل الاجتهاد (ایضا ج۳ ص۱۷٦).

په ملتقط کی مذکوردی چی‌که دمفتی درستی مسئلې دهغه پرخطا اوغلطوباندی غالبي وی نو دهغه دپاره فتوٰی ورکول درست دی اګر چی هغه دمجتهدینو څخه نه وی.

دماغی توازن: که څه هم چی په کار خو داده چی چاته دمسائلو استحضار حاصل نه وی یا دهغه دماغی ساخت کوږ واقع سوی وی یا دخپل یو مرض په وجه دا فریضه اداء نکړی سی نو هغه دي دا ذمه داری هرګز نه قبلوی ځکه چی دجواب دپاره لکه څنګه چي ظاهری ښه کیدل په کار دی نو ددماغی توازن برقرار کیدل هم بی حده ضروری دی، اندازه یې داده چی فقهاؤ لیکلی دی چی دزیات مسرت اوحاجاتِ بشریه دغلبې په وخت کی دی هم فتوٰی ورنه کړی ځکه چی دا شان داطمینانِ قلب اودماغی توازن ورکوونکی دی [1].

ظاهری هیئت: دظاهری هیئت په هکله په کتابونو کی دامام ابویوسف رحمة الله علیه دا واقعه درج ده:

وعن ابی یوسف رحمة الله علیه انه اذا استفتی فی مسئلة استوٰی وارتدی وتعمم ثم افتی تعظیماً لامر الافتاء (الطحطاوی ج۳ ص۱۷۵).

---

(۱). وګوری طحطاوی علی الدر المختار ج۳ ص۱۷۵. ظفیر

دامام ابی یوسف رحمة الله علیه متعلق روایت دی چی کله به دهغه څخه دیوې مسئلې پوښتنه کیده نودی به ولاړ سو یعنی هغه به یوه لوري ته ولاړ سو او سیده به کښېنستی، ښه لباس به یې پر تن کړی اوعمامه به یې پرسر کړه بیابه یې جواب ورکوی او هغه به داټول اهتمام دافتاء دعظمت دوجهی کوی.

ښه اخلاق: مفتی لره متواضع نرم خویه او خوش مزاجه کیدل په کار دی او ترش مزاجی دهغه دپاره سخت عیب دی:

ینبغی ان یکون المفتی متواضعاً لیّناً ولا یکون جباراً عنیداً ولا فظًّا غلیظ القلب لان الله تعالٰی قال: فبما رحمة من الله لنت لهم الخ (بستان الفقیه ابی اللیث باب من یصلح له الفتوٰی ص ۱٤).

یعني مفتی لره متواضع اونرم خویه کیدل په کاردی سخت کینه کوونکی، ترش خویه او سخت زړی نه دی کیدل په کار ددې وجه باری تعالی دآن حضرت ﷺ په اوصافو کی دنرم خویی تذکره کړی ده اوهغه ﷺ یی ستایلی دی.

کم ضرورت مند چی دخپل ضرورت سره دمفتی په خدمت کی حاضرسی نو هغه لره په کار دی چی که یو معقول عذر نه وی نو دهغه ضرورت دي پوره کړی اودهغه حاجت دي سرته ورسوی اومستحق دثواب دي سی او خپله فریضه دي اداء کړی:

قال الفقیه ینبغي لمن جعل نفسه مفتیا او تولی شیئا من أمور المسلمین وجعل وجه الناس الیه ان لا یردهم قبل ان یقضی حوائجهم الا من عذر ویستعمل فیه الرفق والحلم (ایضا).

یعني کم څوك چی مفتی وی یا دمسلمانانو دیوې بلی شعبی ذمه دار وی اودخلګو دهغه طرف ته عامه رجوع وی نو هغه ته په کار دی چی که کم عذر نه وی نو دهغوی حاجت دي پوره کړی او په وخت کي دعذر دي دنرمي او ملاطفت معامله وکړی.

یقن او اعتماد: مفتی چی کله دجواب دورکولو اراده وکړی نو ودی ګوری چی هغه کم جواب ورکوی دهغه په دی باندی پخپله یقین سته اوکه نه؟ که یقین یی وی اودا راجحه ګڼی نو بیا دي جواب ولیکی که نه نو په اټکل او ګمان سره دي دجواب ور کولو هیڅکله جرأت نه کوی یا په دې ډول چی پخپله یی اعتماد نه وی نو نورو ته دي هغه جواب نه ورکوی:

فالمفروض علی المفتی والقاضی التثبت فی الجواب وعدم المجازفة فیهما خوفا من الافتراء علی الله تعالٰی بتحریم حلال وضده (عقود رسم المفتی ص ٥).

نو دمفتی اودقاضی فرض دی چی په کم څه جواب ورکوی په هغه یی پوره یقین وی اوپه اټکل او ګمان دي خبره نه کوی ترڅو ددی افتراء خطره باقی پاته نه وی چی یو حرام

حلال یا حلال حرام وګرځوی.
دعدم تثبت په صورت کی څه دحیرت خبره نه ده چی هغه دي غلط څه ولیکی، کیدی سی چی حرام حلال ولیکی یاحلال حرام دديٍ وجه څخه په داسی صورت کی دافتاء څخه پرهیز کول ضروری دی.

پر راجح قول باندي افتاء: بیا دي په جواب کی هغه قول اختیار کړی چی دمذهب دعلماؤ په نزد راجح وی او مرجوح دي هرګز نه اختیاروی مګر داچی یوه داسی خاص وجه وی او ددلائلو په رڼا کی دغه مرجوحه په نظر راجحه راسی. (نوبیله خبره ده) :

ان الواجب علی من اراد ان یعمل لنفسه او یفتي غیره ان یتبع القول الذي رجحه علماء مذهبه فلا یجوز له العمل اوالافتاء بالمرجوح الافي بعض المواضع وقد نقلوا الاجماع علی ذلک (ایضاً ص ۳).

کم کس چی پخپله دعمل اراده وکړی یا بل ته حکم وښیی په دواړو صورتونو کی پر هغه باندی واجب دی چی دهغه قول پیروی وکړی کم چی علماؤ دمذهب راجح ګرځولی دی لهذا په مرجوح باندی عمل یا فتوٰی ورکول درست نه دی بغیر دځو ځایونو څخه لکه چی فقهاؤ پر دی اصل باندی اجماع را نقل کړیده. ابن عابدین شامی رحمة الله علیه لیکلی دی:

وکلام القرافی دال علي ان المجتهد والمقلد لایحل لهما الحکم والافتاء بغیر الراجح لا نه اتباع للهوی وهو حرام اجماعًا (ایضا).

دقرافی کلام په دی دلالت کوی چی په غیر راجح باندی فتوٰی ورکول یافیصله کول دهیچا دپاره هم جائزنه دی که هغه مجتهد وی اوکه مقلد ځکه چی په دغه وخت کي به دنفس دخواهش پیروی وسی چی بالاتفاق حرامه ده.

مختصره دا چی که صاحب نظر اوصاحب بصیرت وی نوپر دلائلو اودهغو پر قوت باندی دي نظر وساتی اوپه راجح اړخ دي عمل وکړی اوفتوٰی دي ورکړی اوکه په مسائلو کی ورته بصیرت تامه حاصل نه وی نودخپل مذهب دعلماؤ په قول دي عمل وکړی:

اما الحکم والفتیا بما هو مرجوح فخلاف الاجماع (عقود رسم المفتی ص۳).

دقول دصاحب په اړه معلومات: بیا چی دکم مجتهد په قول باندی فتوٰی ورکړی دهغه متعلق معلومیدل په کار دی چی په روایت کی ددی څه درجه ده:

لابدللمفتی المقلد ان یعلم حال من یفتی بقوله بل معرفته فی الروایة ودرجته فی الدرایه وطبقته.

مفتی مقلد چی دچا په قول فتوٰی ورکوی دهغه متعلق مفتی ته داعلم لرل ضروری دی چی په روایت او درایت کی ددی څه درجه ده او داپه کمه طبقه کی داخل دی.

دخواهشاتوڅخه اجتناب: په هرحال کی دنفس دخواهشاتوفریب اوهمدې ډول دنورو رزائلو

څخه دفتوٰی ورکولو په وخت کي دمفتی ځان ساتل ضروری دی ځکه چی ددغو جذباتو پیروی حرامه ده:

ويحرم اتباع الهوى والتشهي والميل الى المال الذي هو الداهية الكبرٰى والمصيبة العظمٰى ، فان ذلک امر عظيم لا يتجاسر عليه الا كل جاهل شقي. (ايضا ص٥).

دنفس دخواهشاتو پیروی، میلان نفس اودمال او ددنیا طلبی رجحان حرام دی چی دټولو څخه لوی مصیبت اوتر ټولو غټ هلاکت دی، دا داسی خطرناکه اقدام دی چی ددی جسارت دجاهل او دبدبختنه څخه ماسوا بل یو څوك نسی کولی.

ناجائزه حیلې: کمی حیلې چی حرامي اومکروه وی دمفتی دپاره دهغې اختیارول درست نه وی په دې ډول سره دهغو رخصتونو په تلاش کی لویدل هم دکم څخه چی په غلط طور څه کسان استفاده اخیستونکي دی، صحیح نه دي. حافظ ابن القیم رحمة الله علیه لیکی:

لا يجوز للمفتي تتبع الحيل المحرمة والمكروهة ولا تتبع الرخص لمن اراد نفعه فان تتبع ذلک فسق وحرام استفتاءه (اعلام الموقعين ج٢ ص٢٥٨).

دحرامو او دناجائزه حیلو تلاش دمفتی دپاره درست نه دی په دې ډول دداسی چا دپاره درخصتونو په جستجو کی لویدل جائز نه دی چی دناجائزی نفع پورته کولو اراده لری ځکه چی دافسق دی اوپه دې ډول استفتاء حرامه ده.

په طحطاوی کی دی:

ويحرم التساهل فی الفتوٰى واتباع الحيل ان فسدت الاغراض (طحطاوی علی الدر المختار ج٣ ص١٧٥).

په فتوٰی کی تساهل او دحیلو پیروی کله چی داغراضو افساد مقصد وی حرام دی.

جائزی حیلې: البته هغه شرعی حیلی چی په هغو باندی عمل فقهاؤ دامت جائز ګرځولی وی اوپه هغوی کی کم شرعی مفسد نه وی په هغوی سره فتوٰی ورکول درست دی حافظ ابن قیم رحمة الله علیه بیا لیکي:

فإن حسن قصده في حيلة جائزة لا شبهة فيها ولا مفسدة لتخليص المستفتي بها من حرج جاز ذلک بل استحب وقد ارشد الله تعالى نبيه ايوب عليه السلام الى التخلص من الحنث بأن ياخذ بيده ضغثا فيضرب به المرأة ضربة واحدة وأرشد النبي صلّى الله عليه وسلّم بلالا الى بيع التمر بدراهم ثم يشترى بالدراهم تمرا آخر (اعلام الموقعين ج٢ ص٢٥٦).

که یوه جائز حیله په ښه ارادی سره اختیار کړی چی نه پکښې کمه شبهه وی اونه پکښي فساد، بلکه لامل یې مستفتی دتنګی څخه ایستل وی نودا جائز دی بلکه مستحب دی

ځکه په خپله باری تعالی خپل پیغمبر حضرت ایوب علیه السلام ته دحنث (دقسم دماتولو دګناه) څخه دژغورلو دپاره راهنمایی کړی وه اودایی ښوولي وه چی هغه دی په خپل لاس کی دلښتو یوه دسته را واخلی اوپه دی سره دي خپله اهلیه یو وار ووهی، او نبی کریم ﷺ بلال (رض) ته وښودل چی هغه دي خرماوي دپیسو په بدل کي خرڅي کړي او بیا دي په پیسو نوري خرماوي واخلي.

تراوسه پوری چی کم څه بیان کړل سویدی په دي کی دافتاء دادابو تذکره هم راغلی ده اوس په سرسری طور باندی دداسی یوڅو شیانو ذکر هم ضروری دی چی دهغو تعلق په باب افتاء کی دمتعلقه مسائلو سره دی.

<u>پر آسانه اړخ او پر رخصت باندي فتوٰی</u>: کم شیان چی بغیر دکراهت څخه جائز دی اوپه شریعت کی دهغو دپاره رخصت وی نو مفتی لره په کار دی چی دعوامو دپاره دغه ډول آسانه اړخ اختیار کړی اوپه دی باندی فتوٰی ورکړی.

حضرت شاه ولی الله رحمۃ اللہ علیہ لیکی:

وفی عمدة الاحکام من کشف البزدوی یستحب للمفتی الاخذ بالرخص تیسیراً علی العوام مثل التوضی بماء الحمام والصلوة فی الاماکن الطاهرة بدون المصلی الخ (عقد الجید ص۷۳)

دکشف البزدوی په حواله په عمدة الاحکام کی بیان سویدی چی دمفتی دپاره مستحب دی چی دعوامو داسانی په غرض په رخصتونو باندی فتوٰی ورکړی لکه دحمام په اوبو سره اودس کول اوپه پاکو ځایونو کی بغیر دجای نماز څخه لمونځ کول وغیره وغیره.

لیکن هغه خلق چی محتاط اوخواص دی دهغوی دپاره په عزیمت باندی عمل بهتر دی:

ولا یلیق ذلک باهل العزلة بل الاخذ بالاحتیاط والعمل بالعزیمة اولی لهم (ایضا).

یعني دارخصت دګوښه نشینو دپاره مناسب نه دی بلکه دهغو دپاره بهتر دا دی چی دغه احتیاط اختیار کړی اوپه عزیمت باندی عمل وکړی.

مفتی لره داهم په کاردی چی خلګوته دداسی خبری فتوٰی ورکړی چی دهغوی په حق کی زیات اسانه وی بالخصوص دکمزورو دپاره حضرت شاه ولی الله دهلوی رحمۃ اللہ علیہ تحریر فرمایی:

ینبغی للمفتی ان یاخذ بالایسر فی حق غیره خصوصا فی حق الضعفاء لقوله ﷺ لابی موسٰی الاشعری ومعاذ حین بعثهما الی الیمن: (یَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا).

مناسب دادی چی مفتی داسی قول اختیار کړی چی دنورو په حق کی خصوصًا دکمزورو په حق کی اسان تروی ددی وجهی څخه چی آنحضرت ﷺ کله حضرت معاذ بن جبل او

حضرت ابو موسی بن اشعری (رض) یمن ته لیږل نو ارشاد یې وفرمایی چې: تاسو دوړه اساني کوی اوتنګی مه کوی.
دمفتي اختیارات او فضائل: که مفتی مناسبه وګڼې نو دهغه دپاره درست دی چې سائل خومره پوښتنه کړی وی نوله هغی څخه دي زیات وښیی ابن القیم رحمة الله علیه لیکی:
یجوز للمفتی ان یجیب السائل باکثر مما ساله عنه وقد ترجم البخاری علی ذلک فی صحیحه فقال باب من اجاب السائل باکثر مما سال عنه ثم ذکر حدیث ابن عمر (اعلام الموقعین ج ۳ ص ۲۳۲).
داجائز دی چې مفتی سائل ته دهغه دجواب څخه زیات مسائل وښیی امام بخاری په دی عنوان یوباب قائم کړیدی: باب دی په دی خبره کی چې سوال کونکی ته دهغه څخه زیات جواب ورکړل سي خومره چې هغه پوښتنه کړی وی بیایی ددې څخه وروسته دحضرت عبد الله بن عمر (رض) حدیث ذکر کړی دی.
که یو جواب داسی وی چې په هغه کی اندیښنه وی چې دمستفتی ذهن دغلطی طرف ته تللی سی نو پر هغه دی تنبیه وکړی:
افتی المفتی للسائل بشيء ینبغی له ان ینبهه علی وجه الاحتراز مما قد یذهب الیه الوهم منه من خلاف الصواب (ایضا ج ۲ ص ۳۳).
په یوه مسئله کی مفتی جواب ولیکی اوپه هغه کی اندیښنه وی چې دسائل ذهن دصحیح مخالف سمت ته تللی سی نو مفتی لره په کاردی چې ددغه غلطی څخه دحفاظت دپاره تنبیه کړی.
حتی الامکان چې کم حکم بیان کړی نودهغه دلیل بیانول بهتر دی ترڅو مستفي ته دزړه اطمینان حاصل سي:
ینبغی للمفتی ان یذکر دلیل الحکم وماخذه ما امکنه من ذلک (ایضا).
یعني حتی الامکان مفتی لره پکار دی چې دحکم دلیل او دهغه ماخذ بیان کړی جواب کافی اوشافی وی په اشکال او تذبذب کی اچونکی نه وی چنانچه علماء لیکی:
لا یجوز للمفتی تخییر السائل والقاءه فی الاشکال والحیرة بل علیه ان یبین بیانا مزیلا للاشکال کافیا فی حصول المقصود (اعلام الموقعین ج ۲ ص ۲٤۱).
دا درست نه دی چې مفتی سائل ته اختیار ورکړی اوپه دی ډول هغه په مشکلاتو کی واچوی بلکه دده فریضه داده چې دغه ډول مسئله ښه واضحه بیان کړی چې کم اشکال باقی پاته نه سی اوهغه جواب دمقصود دپاره کافی او وافی وی.
که یوه مسئله دتفصیل غوښتونکي وی نوپه دغه صورت کی دهغې مجمل بیانول نه دی

پکار په اعلام الموقعین کی دی: لیس للمفتی ان یطلق الجواب فی مسئلة فیها تفصیل (ایضا ج۲ ص۲۴۵) په تفصیل غوښتونکي مسئله کی دا جائز نه دی چی مفتی اجمالی جواب ورکړی.
که دهغه یعني مستفتي خواته یو دینداره با وثوق عالم وی او مسئله مهمه وی نو دهغه سره دي مشوره وکړی:
وان کان عنده من یثق بعلمه ودینه فینبغی له ان یشاوره (ایضا ج۲ ص۲۷۱)
که یو قابل وثوق باعمل عالم موجو دوی نو دهغه سره دي مشوره وکړی.
مفتی لره په کاردی چی دجواب لیکلو په وخت کي خپل زړه دالله تعالی طرف ته وګرځوی او محتاج محض دي جوړ سی او دخدای تعالی په وړاندی دي ځان وګڼی اوپه کثرت سره دي دعاء وکړی:
وحقیق بالمفتی ان یکثر الدعاء بالحدیث الصحیح (ایضا) یعني مفتی دي په کثرت سره دعاءِ ماثوره وایی.
اوفقهاؤ لیکلی دی چی هغه کله داستفتاء جواب ولیکی نو دهغه په اخر کی دي دا ولیکی: والله اعلم، الله پاك ډیر زیات ښه پوهیږی اوکه دعقایدو سره متعلق مسئله وی نو بیا دي ولیکی: والله الموفق الله تعالی توفیق بخښونکی دی.
علامه طحطاوی لیکی:
ینبغی ان یکتب عقب جوابه والله علم وقیل یکتب فی العقائد والله الموفق (طحطاوی علی الدر المختار ج۱ ص۴۹)
دخپل جواب په ختم کی والله اعلم لیکل مناسب دی اوکه دعقائدو سره متعلق مسئله وی نو ویل سویدی چی والله الموفق دي ولیکی.
استدلال: داستدلال ذکر په فتویٰ کی ددی حسن اوجمال دی نوځکه ددی په نقل کولو کی دي کوتاهی ونه کړی ابن القیم رحمة الله علیه لیکی:
عاب بعض الناس ذکر الاستدلال فی الفتوٰی وهذا العیب اولی بالمعیب بل جمال الفتوٰی (ایضا) .
یعني بعضوخلګو استدلال په فتوٰی کی معیوب ګرځولی دی حالانکه داسی ویل په خپله دعیب ګرځونکی دپاره معیوب دی ځکه چی ددلیل اظهار دفتوٰی حسن اوجمال دی.
حواله جات: نن سبا دحواله طریقه داده چی دیو مستند کتاب څخه دي مسئله اخیستل سوی وی او دهغه عبارت دي نقل کړی او ددی دصفحاتو او دباب حواله دي ورکړی.
دمستندو کتابونو حواله: پدی سلسله کی طحطاوی رحمة الله علیه اونور علماء صراحت کوی چی دسند دنه موجودوالی په صورت کی دي دمستند او متداول کتاب څخه مسئله اخذ

کړل سی:

وطريق نقله احد من أمرين: اما ان يكون له سند فيه او يأخذه من كتاب معروف تداولته الأيدي من كتب الامام محمد بن الحسن ونحوها من التصانيف المشهورة لانه بمنزلة الخبر المتواتر او المشهور (طحطاوی علی الدرالمختار ج۱ ص۴۹).

یعني دنقل دوې طریقې دی په هغوی کی دي یوه وی، یا په مسئله کی مسلسل دهغه سره سند وی یا دداسی مشهور او معروف کتاب څخه اخیستل سوی وی چی په علماؤ کی مقبول رآئج وی لکه دامام محمد رحمۃ اللہ علیہ مشهوره تصانیف یا دهغه په شان نور کتابونه ځکه چی داهم دخبرِ متواتر او مشهور ددرجې برابر دی.

او هیڅ شبهه نسته چی په دې سلسله کی نن سبا دوهم صورت اسلم او محکم دی اوپه دې باندی دموجوده مفتیانو عمل هم دی چی هغوی دحکم کولو څخه وروسته دیو معتمد (۱) کتاب عبارت نقل کوی او کوشش کوی چی ترکمه حده پوری صریحه جزئیه پیدا سی نوښه دی.

شامی دمتاخرینو په کتابونو کی: زموږ په دی دورکی ردالمحتار لابن عابدین رحمۃ اللہ علیہ شامی دټولو څخه زیات مقبول او مشهور کتاب دی ځکه چی په دی کی دفقهی کتابونو ټوله ذخیره په پوره خوبی سره یوځای جمع کړل سویده اوهمدا وجه ده چی دربانی عالم حضرت مفتی عزیز الرحمٰن صاحب رحمۃ اللہ علیہ سره بیشتر داکتاب موجود ؤ.

صراحت دی نقل کړل سی: بلکه بعضو علماؤ لیکلی دی چی کمه مسئله بیان کړل سی ددی دي داسی حواله نقل کړل سی چي په هغی کی هیڅ مشکل نه وی اومفتی ته په کار دی چی هغه دقواعدو اوضوابطو څخه دمسئلې داخذ کولو پرځای صراحت نقل کړی اودهمدی څخه دي فتوٰی ورکړی په شرح حموی ص۱۲۱ کی دی:

لما في الفوائد الزينية انه لا يحل الافتاء من القواعد والضوابط وانما على المفتى حكاية النقل الصريح كما صرحوا به (شرح الحموي على الاشباه والنظائر ص۱۲۱).

---

(۱) دامام محمد رحمۃ اللہ علیہ دکتابونو څخه را نقل سوی کم قابل اعتماد کتابونه چه په علماؤ کی مقبول دی دهغوی حواله هم درسته ده: اما الاعتماد على كتب الفقه الصحيحة الموثوق بها فقد اتفق العلماء فى هذا العصر على جواز الاعتماد عليها لان الثقه قد حصلت بها كمال تحصل بالرواية (معين الحكام ص۳۱) البته دغیرِ مشهورو کتابونو څخه فتوٰی ورکول درست نه دی: وعلى هذا تحرم الفتيا من الكتب الغريبة التى لم تشتهر حتى تتظافر عليها الخواطر ويعلم صحة ما فيها (ايضًا ص۳۲) دغه ډول دَهغو کتابو څخه هم فتوٰی ورکول درست دي کم چه په نوو تصنیفاتو کی شمارل کیږی اوپه کومو کی چه دمعتبرو کتابونو په حوالې سره مسئله نه وی اخذ کړل سوی: وكذلک الكتب الحديثة التصنيف اذا لم يشتهر عزو ما فيها من المنقول الى الكتب المشهورة الخ (ايضًا). ظفیر

په فوائد زينية کی دی چې دقوعدو اوضوابطو څخه فتوٰی ورکول درست نه دی بلکه دمفتی فریضه ده چی هغه دي دنقل صریح حکایت وکړی لکه چې فقهاؤ ددې خبري صراحت کړيدی.

مفتی او قیاس او اجتهاد: لیکن دامعلومه سوي خبره ده چې دهری زمانی دمفتی مخ ته څه داسی مسائل ضرور راځی چې په کتابونو کی صراحتًا مذکوري نه وی په داسی حالت کی پرдغه مفتی باندی دمسئلی په اخذ کي داصولو او قواعدو ذکر ضروری کيږی ځکه چې ددي څخه بغیر کار چلیدلی نه سی نوځکه دمفتی دپاره په داسی مواقعو کی ددی اجازت به په هره زمانه کی وی او ددی وجه څخه چې دمفتی دپاره کم ځای ټول اوصاف بیان کړل سویدی داهم بیان کړل سوی دی چی هغه دي دخپل مذهب اوامام داصولو او اسالیبو سره مناسبت تامه ولری (لکه چې مخکی تیر سویدی) ترڅو دضرورت په کي وخت ددغو نوو مسائلو څخه جواب فراهم کړل سی دکم صراحت چی دامام صاحب اواصحابو دامام وغیرهم رحمهم الله څخه منقول نه وی اوهمدغه وجه ده چی دمفتی دپاره فقیه النفس، صاحب حسن تصرف اوسلیم الذهن کیدل هم شرط قرار ګرځول سوی دی په طحطاوی علی الدرالمختار کی دی:

وینبغی ان یکون متنزهًا عن خوارم المروة فقیه النفس سلیم الذهن حسن التصرف (طحطاوی ج۳ ص۱۷۵) یعني لائقه داده چی مفتی دي دمروت دخوارمو څخه منزه وی اوددی سره دي فقیه النفس سلیم الذهن اودحسن تصرف په اوصافو سره متصف وی.

ددغه اوصافو چی څوك خاوند وی هغه دمقلد کیدو باوجود داصولو اودضوابطو اودکتاب اودسنت په رڼا کی دنوو مسائلو په اسانی سره جواب ورکولی سي اوتاریخ ګواه دی چی تراوسه پوری همداسي کیدونکی راروان دی.

مصلحت ته ترجیح ورکول: په همدې ډول که چیري په یوه مسئله کی دوه صحیح اقوال وی نو مفتی دخپلي رایي موافق جواب اوفتوٰی دوخت دمصلحت په نظر کي نیولو سره په هریوه قول باندی ورکولی سي صاحب دالاشباه والنظائر لیکی:

المفتی انما یفتی بما یقع عنده من المصلحة کما فی مهر البزازیة (الاشباه والنظایر ص۳۱۸) .

یعني مفتی بلا شبهی په هغه مصلحت باندی فتوٰی ورکولی سي کم چی هغه مناسب ګنی لکه چی په فتاوی بزازیه باب المهر کی دی. په دی باندی حموی لیکی:

لعل المراد بالمفتي ههنا المجتهد اما المقلد فلا ینبغي الا بالصحیح سواء کان فیه المصلحة للمستفتي او لا ویجوز ان یرادبه المقلد ان کان في المسئلة قولان مصححان فانه مخیر في الفتوٰی

بكل واحد منهما فيختار ما فيه المصلحة منهما هكذا ظهر لي (شرح حموى ص۳۱۸).
شايد چې دلته په مصلحت كې دمفتي څخه مراد مجتهد وی ځكه چې څوك مقلد دی نو هغه خوبه صرف په صحيح نقل باندی فتوٰی وركړی كه هغه دمستفتي دمصلحت مطابق وی اوكه نه او داهم كيدی سی چې دلته مفتي مقلد مراد وی او ددی صورت به داوی چې په كمه مسئله كې دوه صحيح قوله تر لاسه كيږی نو هغه ته اختيار دی چې ددغو دواړو څخه چې كم يو دمصلحت مطابق پيدا كړی پرهغه دي فتوٰی وركړی، ماته دا ډول معلومه سوه.

په قاضي او مفتي كې فرق: دليكلو خبري ډيری دی مگر دطوالت دبيری څخه پاتيږی اودا وجه ده چې صرف په اشاراتو باندی اكتفاء كړل سوی ده ان شاء الله څه چې په سرسری طور سره ليكل سويدی هغه به كافي وی، او واضحه سوه چې دافتاء كار څومره اندازه مهم اوذمه دارانه دی په اصول قضاء كې صراحت دی:

ولا فرق بين المفتي والقاضي الا ان المفتي مخبر والقاضي ملزم به (عقود ص۳، ودرمختار)
يعني دمفتي او دقاضي ترمينځ ددې څخه بغير هيڅ فرق نسته چې مفتي مسئله ښوونكي وی اوقاضي په بل باندی منوونكي وی.

دمفتي مقام: ددې څخه معلومه سوه چې مفتي په خپله ذمه داری كې دقاضي څخه زيات دی اوكم نه دی ددې وجه چې فقهاؤ چې چيري دقاضي دعالم اوجاهل كيدو بحث كړی دی هلته ددی هم صراحت دی چې قاضي دمفتي په فتوٰی باندی فيصله كولی سي كه هغه دقضاء پربنياد فتوٰی وركړی وی ځكه چې مفتي وظيفه په اصل كې ددیانت پربنياد باندی فيصله وركول دی:

في أيمان البزازية المفتي يفتي بالديانة والقاضي يقضي بالظاهر (الدر المختار على هامش رد المحتار ج ۳ ص ۴۲۴).
يعني دفتاوی بزازيه په كتاب الآيمان كې دی مفتي په ديانت باندی فتوی وركولی سي اوقاضي په ظاهر حال باندی فيصله كوی.

البته په مفتي اوقاضي كې دافرق ضرور دی چې مفتي صرف دحكم ښودلو ذمه دار دی بياپه مستفتي پوری موقوف دی چې هغه عمل كوی اوكه يې نه كوی، مفتي هغه مجبورولی نه سی بيا چې سوال كونكي څنگه سوال وكړی مفتي هغه مخ ته كنبيږی دی اوجواب وليكي يايې ورته زباني ووايي البته داضرور دی چې مفتي ويښ اودور انديش وی داسی نه وی چې دمستفتي په وړاندی مخكې دوخت څخه صورت مسئله بيان كړی اوهغه ددی مطابق سوال جوړ كړی او بيايې وكړی ليكن په هرحال كې بحث اومباحثه او

تفتیش اوتجسس صرف دقاضي پرسر دی دمفتي پرذمه نه دی.

ښځه دافتاء پرمسند باندی کښینستلی سی: ددی وجهی څخه فقهاؤ صراحت کړی دی چی افتاء داخرس یعنی گونگی دپاره هم درسته ده لکه څنگه چی داضروری نه ده چی مفتی دي سړی وی اوښځه دی نه وی اوآزاد دي وی غلام دي نه وی په دې ډول داهم ضروری نه ده چی هغه دي خبری کونکی وی اوگونکی دي نه وی. په ردالمحتار کی دی :

لا حرية ولا ذكورة ولا نطق فيصح افتاء الاخرس (الدرمختار على هامش ردالمحتار ج۳ ص۴۱۹).

یعنی دمفتی دپاره نه دازادوالی شرط نسته اونه دنارینه والی اونه دصاحب نطق والی لهذا دگونگی فتوٰی ورکول درست دی.

ددی حاصل داسو چی دافتاء فرائض ښځی غلام اوگونگی هم سرته رسولی سی که پرهغوی باندی هغه ټول محاسن او شرائط جمع وی چی دیو مفتی دپاره ضروری دی او دکومو اجمالي تذکره چی پورته تیره سویده.

په هندوستان کی دافتاء کار: په هندوستان کی څه موده وسوه چی مسلمان حکومتونه ختم سویدی او ددی سره چي لړ او ډیر اسلامی نظام رائج ؤ هغه هم ختم سو انگریزانو چی په خپل دور دحکومت کی دینی مدارس اومراکز په کم ډول برباد کړل هغه یوزړه دردوونکی اوږد تاریخ دی، الله تعالی دي جزاءِ خیر عطاء کړی هغه علماءِ کراموته چی هغوی په پرایوټ (شخصي) طور داسلامی نظام یادگارونه په یوشکل کی باقی وساتل اگرچي دکتابونو او دفتاوٰی په شکل کی ولی نه وی.

حضرت شاه عبد العزیز او مولانا فرنگی رحمهما الله : په انگریزی دور دحکومت کی چی کمو علماؤ دافتاء فرائض په ذاتی طور سره سرته رسولی دی په هغوی کی دټولو څخه زیات مشهور دحضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوی رحمة الله علیه المتوفی سنه ۱۲۳۹هـ نوم دی چی دهغوی دفتاوٰی مجموعه دفتاوٰی عزیزیه په نوم چاپ سویده.

په دغو خوږو نومونو دعلماؤ کی دحضرت مولانا عبدالحی فرنگی محلی لکهنو المتوفی سنة ۱۲۰۰ هـ ذات هم دی چی دهغوی فتاوی یوه عمده مجموعه طبع سوی ده او دیوی مودی څخه خلگوته فائده رسوی اوپه دي کی شك نسته چی ددوی مجموعه فتاوی دگرانقدره معلوماتو بیش قیمته خزانه ده.

دار العلوم دیوبند: دانگریزانو دحکومت په دور کی چی کله دسنه ۱۸۵۷ میلادي څخه وروسته چی انگریز په پوره قوت سره خپلی پنجی دلته ښخی کړی وی، حجة الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم صاحب نانوتوی رحمة الله علیه المتوفی سنه ۱۲۹۷هـ دخپلو څو

ملګرو او عقید تمندو سره یوځای پر۱۵ دمحرم سنه ۱۲۸۳ھ دیوی دینی اداری دمدرسې اسلامیه عربیه په نوم بنیاد کښیښووی چې په هغه لږو رځو کی دار العلوم دیوی اسلامي یونیورستی حیثیت اختیار کړی او په دی اسلامي یونیورستی کی چی یواړخ ته نور شعبه جات قائم سوه ددار الافتاء قیام هم په عمل کی راغی.

دافتاء کار او دار العلوم : په ابتداء کی به استفتاء دبانی دارالعلوم حضرت قاسم نانوتوی رحمة الله علیه په خدمت اقدس کی راتله او بیابه دعالم ربانی حضرت مولانا رشید احمد صاحب ګنګوهی رحمة الله علیه المتوفی سنه ۱۳۲۳ھ په بابرکته خدمت کی وړاندي کیده، پرحجة الاسلام حضرت قاسم نانوتوی رحمة الله علیه باندی چونکه ولایت غالب ؤ ددې وجه دهغوی تاکید ؤ چی سوالات دي دعارف بالله حضرت ګنګوهی رحمة الله علیه په خدمت کی پیش کړل سی ځکه چی هغه فقیه النفس او باعمله عالم ؤ .

څه ورځی امام ربانی حضرت نانوتوی رحمة الله علیه دغه خدمت دافتاء دخپل استاذ زاده حضرت محمد یعقوب صاحب نانوتوی (المتوفی سنه ۱۳۰۲ھ) څخه هم اخیستی ؤ پخپله به امام ربانی دافتاء دخدمت څخه عموماً احتراز فرمایی.

ترڅه مودی پوری په دارالعلوم دیوبند کی باضابطه (دارالافتاء) قائمه نه کړل سوه دسنه ۱۲۸۳ھ څخه تر سنه ۱۳۰۹ھ پوری دغه کار ددار العلوم اساتذه کرامو سرته رسوی بیاپه سنه ۱۳۰۱ھ کی شورٰی دیو تجویز په ذریعه ددی کار دپاره حضرت مولانا محمد یعقوب صاحب صدرِ مدرس رحمة الله علیه ترډیره حده پوری داسباقو څخه فارغه کړی صرف څو اسباق دهغه پرذمه پاته سوه لکه چي ددغه کال درویداد د۱۰۴ صفحی څخه ظاهر دی ګواکي حضرت مولانا محمد یعقوب صاحب رحمة الله علیه دصدر مدرس کیدو سره سره مفتی هم ؤ په سنه ۱۳۰۲ھ کی دهغوی وفات وسو دهغه څخه وروسته دغه کار دمختلفو خلګو څخه واخیستل سو مګر داټول حضرات مدرسین وه، په سنه ۱۳۰۴ھ کی ددارالافتاء دجوړیدو دضرورت اشتهار ورکړل سو او ددی شعبی اهمیت څرګند کړل سو، دارنګه په دی سلسله کی ویل سوی وه چی که چیري باضابطه ددی نظم وکړل سي نویوه ورځ دنوی فتاوٰی عالمګیری وجود په عمل کی راتللی سی. لیکن ترسنه ۱۳۰۹ھ پوری باضابطه ددی دقیام کم صورت پیدا نه کړل سو.

ددار الافتاء قیام: په ۲۷ دربیع الاول سنه ۱۳۰۹ھ قدوة السالکین حضرت مولانا مفتی عزیزالرحمٰن صاحب دیوبندی رحمة الله علیه دمرتهه دمدرسې څخه را وغوښتل سو او دنائب مهتمم پرمنصب باندی فائز کړل سو اودیو نیم کال څخه زیات هغه پردی منصب باندی برقراره وو مګر په دوهم کال اراکینو دمجلسِ شورٰی په ۷ دذیقعدی سنه ۱۳۱۰ھ ددغی

مدرسی دسرپرست حضرت گنګوهی رحمه الله علیه په خدمت کی ولیکل چی دمدرسی مهتمم ته دنائب ضرورت نسته نو ددی وجه تحریر وفرمایاست چی دمولانا عزیز الرحمٰن صاحب څخه باید کم کار واخیستل سی بیایی په خط کی داهم په اخرکی ولیکل چی دمفتی دنه مقرر کیدو په وجه مستفتینو ته جواب په تاخیر سره رسیږی دکم څخه چی هغوی ته حرج وی ([1])، په ۹ دذیقعدی سنه ۱۳۱۰ھ دحضرت ګنګوهی رحمه الله علیه داجواب موصول سو:

(دبنده په نزد دي مولوی عزیز الرحمٰن صاحب داهتمام څخه جلا کړل سی او دمدرسی افتاء او دطالبانو اسباق دی ورکړل سی او دمدرسینو اعانت دي کوی او لاریب دفتوٰی جواب په تاخیر رسیدل په سبب دعدم فرصتی دمدرسینو دمدرسی بدنامی ده او دافتاء کار خو داسی نه دی چی ددرس دشغل باوجود هغه وکړل سی).

دحضرت ګنګوهی رحمه الله دخط نقل، دنقل تجاویز شوری درجسټر ص۱۰۲ څخه

دسنه ۱۳۱۰ھ درویداد په ۲ صفحه کي ددی صراحت موجود دی چی مفتی صاحب دنيابت داهتمام څخه ګوښه کړل سو اوپر افتاء او دشرح ملاجامی څخه لاندی پر دوو سبقونو باندی مقرر کړل سو.

مفتی عزیز الرحمٰن رحمه الله علیه او افتآء: دسنه ۱۳۱۰ھ څخه پرلپسې تر رجب سنه ۱۳۴۲ھ پوری پردی افتاء باندی عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب رحمه الله علیه فائز ؤ مګر په دې ډول چی ترسنه ۱۳۳۲ھ پوری هغه ته یو نقل نویس نه ؤ ورکړل سوی که څه هم چی هغوی په طلباؤ باندی دسنه ۱۳۲۹ھ څخه دنقل فتاوی کار شروع کړی ؤ په دی وجه سره دسنه ۱۳۲۹ھ څخه تر سنه ۱۳۳۲ھ پوری په نقل فتاوی کی مختلف خطونه ترلاسه کیږی چي ترډیره حده پوری ناصاف وي، خوپه سنه ۱۳۳۳ھ کي دهغوی دکار درفیق په حیثیت سره دمولانا قاضی مسعود احمد صاحب مدظله تقرر په عمل کی راغی چی ددوی ذمه داری دسوالاتو اودجواباتو نقل ؤ چنانچه ددغه وخت څخه رجسټر صاف لیکل سوی ترلاسه کیږي قاضی صاحب موصوف دسنه ۱۳۳۲ھ څخه نائب مفتی مقرر کړل سو.

مختصر داچی حضرت مفتی عزیز الرحمٰن صاحب رحمه الله علیه موصوف ترسنه ۱۳۳۲ھ پوری یوازي دمفتی په حیثیت سره ؤ خوپه دی شپږ دیرش کلن دور افتاء کی نقول صرف دسنه ۱۳۲۹ھ څخه ترلاسه کیږی اوددې څخه مخکی داتلسوکالودفتاوی نقلونه موجود

([1]). رجسټر نقل تجاویز شوریٰ. ظفیر

نه دی.

ددار العلوم سره تړلي نوري فتاواوي: دغه ډول داویل که څه هم چي درست دی چي ددار العلوم دفتاوی ابتداء دفتاوی رشیدیه څخه کیږی اوحکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب رحمة الله علیه هم چونکه دحضرت مولانا محمد یعقوب رحمة الله علیه تر تربیت لاندي دسنه ۱۳۰۱ھ څخه مخکی په دارالعلوم کی دافتاء کار شروع کړی ؤ بیا دهمدی دارالعلوم فرزند هم ؤ او وروسته سر پرست هم سو نوځکه امداد الفتاوی هم په اصل کی ددی سلسلې یوه کړۍ ده اوداهم ددی عظیم الشان دینی اداری فیضان دی، په همدې ډول فقیه الامت مولانا کفایت الله صاحب رحمة الله علیه هم ددارالعلوم تلمیذ رشید ؤ اوبرابر دمجلس شوریٰ خاص غړی هم ؤ نوځکه دهغوی خدمت دافتاء هم ددغه دار العلوم یو ښاخ دی ددوی فتاویٰ اگر چی مرتب سوی اوتر اوسه پوری شائع سوی نه ده مگر دهغوی تعداد هم زیات دی.

لیکن ددار العلوم په احاطه کی په کنبنستلوسره او ددی ځای دشعبۀ دار الافتاء په مهر سره چی کمي فتواوی په ملك کي دننه او دباندي ملك ته لیږل سویدی ددی ابتداء درئیس المفتیین حضرت مولانا عزیز الرحمٰن رحمة الله علیه صاحب څخه سوی ده اوهم دغه فتاوی د (فتاوی دار العلوم) په نوم سره مشهوره ده اوپه دی وخت کی همدغه ستاسو په خدمت کی وړاندی کیږي.

دفتاوی ترتیب: د۲۳ دربیع الثانی سنه ۱۳۷۴ھ په مجلس انتظامیه کی حکیم الاسلام حضرت مولانا محمد طیب صاحب مدظله په خپل یوه وړاندیز سره دترتیب فتاوی تجویز وړاندي کړی دمجلس بیدار دماغ اراکینو په خوښی سره اول په عارضی طور باندی ددی منظوری ورکړه اوپه دې ډول دغه کار د ۷ جمادی الالی سنه ۱۳۷۴ھ څخه شروع کړل سو (۱) وروسته بیا اراکینو دشوری مستقله منظوری ورکړه او داکار باقی وساتل سو لیکن ددې سره دا فیصله هم وسوه چی فتاوی مدلله او مکمله راسی او داچی هغه په هر لحاظ ددار العلوم دیوبند دشان سره مناسبه وی.

په ۴ ذیقعده سنه ۱۳۷۲ھ مجلس عامله دیوه تجویز په ذریعه داکار دخاکسار په طرف منتقل کړی اوپه دې ډول په مینځ دذیقعده کي دسنه ۱۳۷۲ھ څخه دا مهمه ذمه داری خاکسار قبوله کړه په سنه ۱۳۷۸ھ راتللو سره دسرسری ترتیب کار ترسنه ۱۳۴۲ھ پوری مکمل سو چی دعارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب قدس سره ددورِ

(۱). وگوری: رجسټر ددار الافتاء نقول احکامات سنه ۱۳۷۴ھ. مرتب

افتاء اخري کال دی دمستفتی حضراتو دنوم په اعتبار سره چی کمه شمېرنه اچول سویده دخاکسار دترتیب ترزمانی پوري دهغه تعداد دوه دیرش زره شپږ سوه اته ویشت ۳۲۲۲۸ دی او دخاکسار څخه مخکی تردوو درو کلونو پوری دا کار چی نورو حضراتو (۱) سرته رسولی ؤ دهغوی تعداد کم او زیات پنځه زره دی ددواړو په یوځای کولو سره دغه تعداد کم او زیات اته دیرش زره جوړېږی ددی ما حصل داسو چی دسنه ۱۳۲۹هـ څخه نیولي تررجب سنه ۱۳۴۲هـ پوری دمحفوظ رجسټر مطابق اته دیرش زره افرادو دار الافتاء ته سوالات لیږلی دی اوجوابونه یی حاصل کړی دی اودا صرف درجسټر سوو فتاواو شمېره ده ددې څخه پرته بعضي حضرات به داسي هم وه چي دتلوارۍ له امله ددوی فتاوٰی درجسټر کیدو څخه پاته سوي وي اوپه مابینځ کي څه رجسټر غائب هم دی، او په دی باندي خو تاسو هم پوهیږی چی یو مستفتی څو څو سوالات دخپلی استفتاء په کاغذ کی لیکی که اوسطًا دری سوالات دهر مستفتی ومنل سی نوپه دې ډول داصلي مسائلو شمیر دری چنده کیږی اودسوا لك برابر جوړیږی اوداتعداد صرف دپنځلسو شپاړسو کلونو دی حضرت مفتی صاحب رحمۃ اللہ علیہ ددي څخه مخکی هم یو ویشت دوه ویشت کلونه دافتاء خدمت سرته رسولی دی دکمی زمانی نقلونه چی موجود نه دی که دومره تعداد ددغه دور هم فرض کړل سی اوکم اوبیش دغومره اندازه تعداد به یی وی نوپه دې ډول صرف دحضرت مفتی صاحب رحمۃ اللہ علیہ دفتاوی تعداد کم او زیات دوه نیم دری لکه جوړیږی.

دفتاوٰی په ترتیب کی دبعض ضروری امورو لحاظ: په درج رجسټر فتاوی کی یو زیات مقدار دهغو فتاواوو دی دکمو چی مکمل نقل موجودنه دی صرف دا لیکل سویدی چی دفلاني شي سره متعلق سوالات راغلی دي چي جوابات یې لیږل سوی دي بیا دترتیب په وخت کي دشورٰی دهدایت سره سم هغه مسائل حذف کړل سویدی ولي چی مکرر وه او په دې ډول په دې زیرِ نظر مجموعه کی دفتاوی زیاته حصه رانغله او دمکرراتو راوړلو کمه خاصه فائده هم نه وه البته که دیوې مسئلې په نوعیت کی ښکاره فرق محسوس کړل سوی وی نو هغه دوباره هم ولیکل سوه.

نقول دفتاوی دتاریخ په لحاظ سره په رجسټر کي درج دی په هغوکی څه ترتیب نه ستهٔ، مګردلته مرتب باب اوفصل قائم کړیدی اول یی هرکتاب جلاکړیدی مثلاًکتاب الطهارة،

(۱). په دوی کی زمورږ نائب مفتی مولانا جمیل الرحمٰن صاحب سیوهاروی هم دی چي هغوی یوکال داخدمت سرته رسولی دی. مرتب

کتاب الصلوة، کتاب الزکوٰة، کتاب الصوم، کتاب الحج، کتاب النکاح وغیره وغیره او بیایې په هر کتاب کی مختلف ابواب قائم کړی دی لکه په کتاب الطهارت کی باب الوضوء، باب الغسل، باب المیاه، باب التیمم، وغیره وغیره بیاپه هر باب کی فصلونه قائم کړل سویدی مثلاً اول فصل فرائض وضوء، فصل ثانی سنن وضوء، فصل ثالث مستحبات وضوء، فصل رابع مکروهات وضوء، فصل خامس نواقض وضوء...اونور.

اکثره مسائل داسی وه چی دهغو حواله درج نه وه مرتب پرحاشیه باندی ددغو ټولو مسائلو حواله جات نقل کړی اوهره حواله یې مع نام کتاب اوباب اوصفحات نقل کړی ده ترڅو چی په رجوع کولو کی کم دقت پیښ نه سی څه مسائل داسی وه چی په هغوی کی یې حوالې ولټولي اوراوړ ایستلي اودباب اونمبر صفحه یې پرحاشیه باندی درج کړه، که په جواب کی دحدیث یوه جمله راغلی وی نو هغه یې هم داحادیثو په کتابونو کی تلاش کړه اوپه حاشیه کي یې دهغه حواله هم درج کړه همدا صورت دقرآنی آیاتونو په سلسله کی هم اختیار کړل سو دناقل په غلطی سره که دحوالی په عبارت کی کمه غلطی سوی وی نو داصل سره په یوځای کولو یې ددی دتصحیح فریضه هم انجام کړل سویده په همدې ډول که دیوې تاریخی واقعی ذکر په جواب کی راغلی وی نو دهغی حواله یې هم درج کړیده.

دایمان او دعقائدو سره متعلق چی کم جوابات دی یا دتفسیر اوحدیث څخه دهغو لپاره جدا جدا عنوانونه قائم کړل سویدی په همدې ډول دبدعاتو دمحدثاتو په یوجدا باب کی دجمع کولو کوش کړل سویدی دسوالاتو سره چی کم آدرسونه تاریخونه اونمبرونه وه دحضرت مهتمم صاحب دامت برکاتهم په مشوری سره په اصل کتاب کی هغه ټول حذف کړل سول ولي چی هغو ته اوس قطعاً ضرورت نه ؤ په مسوده کی البته داټول شیان پرېښودل سوی دی ددی دپاره که کله دمقابلی نوبت راسی نوپه آسانی سره به دغه کار سرته ورسیږی البته اوس چی دمکرراتو دحذف څخه بعد کم مسائل په کتاب کی باقی پاته سویدی پرهغو باندی پرلپسي شمېره اچول سوی ده ترڅو په یوکتاب کی چی څومره مسائل راغلی دهغو تعداد معلوم کړل سی.

اولنۍ حصه دکتاب الطهارة ده په دې کی دمسائلو تعداد نسبتا ډېر کم دی، ځکه اولاً عوام دطهارت دمسائلو متعلق لږ پوښتنه کوی اوپه هغو کی کمه ستونزه هم نسته ثانیاً دمکرراتو پکښې تعداد زیات ؤ اوپه هغو کی یوتر بله کم خاص فرق نه ؤ نوځکه هغه حذف کړل سول لیکن که ټول مسائل په من وعن نقل سوی وی نوداسی به څوجلدونه ځیني جوړیدی البته په کتاب الصلوة کی دمکرراتو دحذف باوجود هم دمسائلو تعداد

ډیر زیات دی او ان شاء الله هغه حصه به دکتاب الطهارت څخه دڅوچنده زیات ضخامت حامله وی.

دحضرت مفتي صاحب رحمة الله علیه **طرز دافتاء**: دلته داښوول هم ضروری دی چی حضرت علامه قدس سره یوطرف ته عارف بالله صاف باطن والا ؤ اوبل طرف ته په علومِ دینیه فقهیه کی درسوخ تامه اوملکه راسخه مالك ؤ دهغوی ددور دافتاء کم او زیات سوا لك مسائل چی دهغوی جوابات ددوی په قلم سوی دی هغه خاکسار په بار بار سره لوستی دی او دمختلفو اړخونو په اعتبار سره اعتراف کیږی چی دهغوی انداز سُچه سوی صاف اوستره اوپوخ ؤ کله به هغوی په یوه مسئله کی دتذبذب لاره نه اختیاروله بلکه دمسائلو تل ته به رسیدی اوکم جوابات چی تحریر فرمایی هغه دهر لحاظه کلك او مکمل دی کمال دادی چی دماغ اوحافظه یې هیڅکله هم خیانت نه کوی ذهن چی کله ځی نو دصحت طرف ته ځي، دغه وجه ده چی جوابات دبی ځایه طول اوتکلیف ورکوونکي اختصار څخه پاك دی انداز دبیان یې سلیس اوجامع دي، معمولی په لیك او لوست پوه کس هم په اسانی سره دهغوی په جواب پوهیږی چاته څه مشکل مخ ته نه راځی.

دحضرت مفتی صاحب قدس سره کمال دادی چی دزمانی دعرف څخه کله هم صرف نظر نه کوی بلکه پرهغه باندی ژور نظر ساتی که دیوی مسئلی دوه مختلف مفتیٰ به اړخونه وی نوپه داسی موقع هغه آسانه پهلو اختیاروی اوپه همدغه باندی فتوی ورکوی داسی صورت هرگز نه اختیار وی چی دعوامو دپاره دمشکلاتو پیدا کونکی وی لکه څنگه چي تاسو به ووینی چی دوی دڅاه دپاکی په سلسله کی ددرو سوو بوکو دایستلو پرصورت باندی فتویٰ ورکړیده په دې ډول دنورو ممالکو سره په تجارت کی چی دبینك سود مجبوراً اداء کول پکار وی او ددي څخه بغیر تجارت ممکن نه وی دا یی په اصل قیمت کی داخل کړی اودتجارت اجازت یی مرحمت فرمایلی دی په حرام گرځولو سره یی مسلمانان ددغه ډول تجارت څخه محروم نه کړل.

دغه ډول په هغه کارخانو کی چی دعامي داخلی اجازت نه وی دجمعی دلمانځه دجواز فتویٰ ورکوی دنورو خلکو په شان داذنِ عام په پام کي نیولو سره دعدم جواز فتویٰ نه ورکوی بلکه داثابتوی چی دداخلی دممنوع کیدو وجه بله ده بیا چی کله په تعدُّد دجُمعه باندی عمل روان دی نو داذن عام دشرط کم خاص اهمیت نه پاته کیږی اودشامی اوږد عبارت په حواله کی درج کوی تاسي به داهم ووینی چی دسوال په لوستلو اول دسائل حیثیت په ذهن کی قائموی اوبیا ددی مطابق جواب لیکی په یوقسم متعددو سوالاتو کی به تاسو ولولی چی یو مختصردی چی په هغه کی صرف حکم بیان سویدی اویو

مفصل چي په هغه کي پوره علمي بحث دی اوحدیث اوفقه متعددي حوالی دي دافرق محض ددی وجهی څخه دی چي دسائلینو درجي مختلفي دی دعوامو دپاره یوازي حکم ښودل کافي دی مګر دعلماؤ لپاره ددلائلو راوړل هم ضروري دي.

په دې ډول به يې فتوٰی همیشه پرمفتی به قول باندی ورکوله که دلوی څخه لوی عالم هم دهغه خلاف رجحان ظاهروی نو دهغه پروا نه کوی لکه په تشهد کی داشاره بالسبابة مسئله پردی حضرت مجدد الف ثانی رحمة الله علیه په مکتوبات کی عدم جواز لیکلی دی خو دوی دانه تسلیموی اودحضرت مجدد قدس سره دقول توجیه کوی یاپه بعضو سوالو کی مستفتی دحضرت شاه ولی الله دهلوی رحمة الله علیه په نوم اخیستلو سره لیکی چي هغوی داسی لیکلی دی، دوی په جواب کی تحریر فرمایي چي موږ دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه مقلدین یو، یادغه ډول په تراویحو کی دابن همام رحمة الله علیه رجحان ته اهمیت نه ورکوی، که یوځوك دحکم علت معلوموی اوهغه دعوامو څخه وی نوهغه یوازي په دومره لیکلو سره خاموش کوی چي دخدای تعالی او دهغه درسول الله ﷺ همداسی حکم دی (۱) لیکن که یو عالم پوښتنه کوی نو دهغه په علمی انداز کی دحکم دروح په پوهولو کوشش کوی.

همدغه حال دحوالی دی که چیري هغه عامه مشهوره مسئله وی یا یو عامی کس پوښتنه کوی نوحواله نه درج کوی که نه نو ځای پرځای حواله هم درج کوی اکثره ددوی دنظر په وړاندي درمختار اوشامی وی نومرتب هم په دی وجه په کثرت ددغو کتابونو حواله ورکړی ده ځکه چي اکثره یې په جواباتو کی لیکلی دی چي په درمختار یاشامی کی داسی دی.

<u>**دمرتب دکم علمي اعتراف:**</u> په اخر کی دومره قدر عرض کول نور ضروری دی چي خاکسار مرتب دخپل محنت ترحده پوری هیڅ کوتاهی نه ده کړی هسی هم دده لږه سرمایه والا کیدل ظاهر دی، په حواله جاتوکی حتی الوسع دصریحی جزئیی نقل کولو جد جهد کړل سوی دی، الا ماشاء الله، مرتب ډیر کوشش کړیدی چي ددی پر حواله جاتو باندی یو بل فقیه نظر واچوی ددی دپاره که چیري کمه خامی پاته سوی وی نودهغی اصلاح به وسی مګر افسوس چي په دی وخت کی داکار ونه سو هسی خو بعضو علماؤ ددار العلوم په سرسری طور نظر پر اچولی دی.

په هرحال چي کم خلګ ددی څخه استفاده کوی که هغوی ته یوه غلطی په نظر ورسی نو

---

(۱). په همدې ډول تربعضو جوابو لاندی مرتب دعلت اضافه کړیده ترڅو ناظرینو ته ګټه ورڅخه ورسیږي. مرتب

دفتاوی مرتب دي دهغه څخه ضرور آګاه کړی چی ترڅو په ائنده چاپ کی دهغه اصلاح وکړل سی مرتب هم پرهر حال انسان دی نو ځکه دغلطیو امکان سته.

اله العالمینه! ته خو ښه پوهیږی چی ستا داحقیر بنده دهغو ټولو وسآئلو څخه خالی دی دکمو چی دنن په دنیا کی قدر اوقیمت دی اوریښتا خبره خوداده چی ستا پرذات باندی دتوکل او دبهروسې دسرمایې څخه بغیر دهغه سره هیڅ نسته صرف ددغه سرمایی په بهروسه باندی هغه دومره دمهم کار ذمه داری قبوله کړیده که چیري ستا امداد او اعانت نه وی نو دهغه په دی خدمت کی به دکوتاهیانو او دخامیانو څخه ماسوا څه وي.

ربُّ العالمینه! کله چی تا محضي په خپل فضل اوکرم سره بغیر دطلبه څخه پردومره عظیم الشان علمی کار باندی لګولی یم نو ددی عظیم المرتبة فتاوی چی کم خدمت دخاکسار سره متعلق دی داهم ددار العلوم په شان اداري سره مناسب جوړ کړی اګر چی دا یو حقیقت دی چی مفتی یوعارف بالله بزرګ دی اومرتب یو از سر تاپا ګنهګار انسان، مګر په ذره کی دلمر په شان ځلیدل راوستل ستا دقدرت څخه بعید نه دی.

پروردګار عالمه! دا حقیر خدمت قبول کړی اودا زموږ لپاره دآخرت توښه او فلاح دارین جوړ کړی. آمین یا رب العلمین.

ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم، وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین، والصلوة والسلام علی سید المرسلین، وعلی آله واصحابه اجمعین.

ددعا غوښتونکی

محمد ظفیر الدین غفرله، پوره نوڈیہاوی

دار الافتاء دار العلوم دیوبند

۲۵ رجب سنہ ۱۳۸۱ ہجری، مطابق ۳ جنوری سنہ ۱۹۶۲ میلادی



بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين.

كتاب الطهارة

الباب الاول في الوضوء

اول فصل : داودسه فرضونه

دسر په مسحه کی دفرض اندازه څه ده؟ **سوال**: (۱) دسر په مسحه کی فرض اندازه څه ده؟ دسر څلورمه برخه اوکه نه ددری ګوتو په اندازه ؟

جواب: علامه شامی [۱] لیکلی دی چي معتبر روایت دادی چي مقدار دمسح دسر څلورمه حصه (ربع الرأس) ده: كما قال في شرح قوله: ومسح ربع الرأس واعلم أن في مقدار فرض المسح روايات أشهرها ما في المتن الثانية مقدار الناصية واختارها القدوري وفي الهداية وهي الربع والتحقيق أنها أقل منه الثالثة مقدار ثلاثة أصابع رواا هشام عن الإمام الى ان قال والحاصل أن المعتمد رواية الربع وعليها مشى المتأخرون كابن الهمام وتلميذه ابن أمير الحاج وصاحب النهر والبحر والمقدسي والمصنف والشرنبلالي وغيرهم. [۲]

دګنی او سپکی ږیری دواړو یو حکم دی اوکه نه جلا جلا او دږیری دپاره جلا اوبه کله اخیستل کیږي؟ **سوال**: (۲) په اوداسه کی دږیری دپاره دری ځلی اوبه را اخیستل ضروری دی اوکه نه؟ آیا دګنی او سپکی ږیری یوحکم دی؟

---

(۱) دعلامه شامی رحمه الله نوم محمد امین دی مګر په ابن عابدین مشهور دی دده دحاشیی نوم (ردالمحتار على الدر المختار شرح تنوير الابصار) دی مګر په عوامو کی دشامی په نوم شهرت لری، حضرت مفتی علام چی هر چیري داسي لیکلی دي چی په شامی کی دا دی نو دهغه څخه همدغه ردالمحتار مراد دی. ظفير

(۲) ردالمحتار كتاب الطهارة فرائض وضوء ج۱ ص۹۲، ط. س. ج۱ ص۹۹، ردالمحتار کتاب په مختلفو مطبعو کی چاپ سویدی اودهر یوه صفحې جدا دی دهمدی وجه څخه دباب او دفصل حواله ورکول کیږي (یعني ددې دپاره چي په هرچاپ کي باید په فهرست کي وکتل سي او همدغه باب او فصل پیدا سي بیا مطلوبه مسئله پکښي آسانه پیدا کیږي) په دغه موجوده فتاوی کی چی کم ردالمحتار ته حوالی دی نو هغه ددار الخلافة العثمانية دمطبع عثمانية چاپ دی که چیري تاسی صفحې ګورئ نو دذکر سوی مطبعی چاپ سوی ردالمحتار دځان سره ولری، حضرت مفتي صاحب هم په ځینو ځایونو کی صفحی لیکلی دي مګر هغه دډهلی دمجتبائي مطبوعي نسخه ده نو دهمدی وجه څخه هلته ورسره په حاشية کی دمطبعی عثمانية صفحې نقل سوی دي، ددی دپاره چی مطابقت یې سره راسی، والله هو الموفق والمعين. طالب دعاء محمد ظفير الدين غفرله

جواب: ددرمختار مضمون دادی چی دټولی ږیری مینځل فرض دی، لیکن دږیري دځړیدلي برخي مینځل یا مسح کول فرض نه دي بلکه سنت دي، او هغه سپکه ږیره چي لاندي پوستکی تر ښکاریږي دهغې لاندینۍ برخه مینځل ضروري دي ([1]) او دکمی چی مینځل فرض دی په هغه کی تثلیث (دري واره والی) سنت دی ([2]) (ږیره لکه څنګه چی په مخکی داخله ده نو دهمدی وجه څخه باید په هغه اوبو ومینځل سی کمی چی دمخ دپاره را اخیستل سوی دی مثلاً په دواړو ورغوو کی به اول اوبه راواخلی اوټول مخ به دږیری سره ومینځي بیا به دویم ځل هم په دواړو لاسونو کی اوبه راواخلی اوټول مخ به دږیری سره ومینځی او همدارنګه په دریم ځل کی به یوازي دږیری دپاره جلا اوبه هغه وخت را واخیستل سی چی کله دږیری خلال کوی او هغه هم یو وار، ظفیر). فقط ([3])

<u>آیا دګڼي ږیري دوریښتانو مینځل په اوداسه کي فرض دي؟</u> سوال: (۳) په اوداسه کي دګڼي ږیري دوریښتانو مینځل فرض دي اوکه مستحب؟ او بیخو ته یې اوبه رسول ضروري دي اوکه به یوازي پر وریښتانو مسح کیږي؟

جواب: په درمختار کي دي: وغسل جميع اللحية فرض يعني عمليا أيضا على المذهب المفتى به المرجوع إليه وما عدا هذه الرواية مرجوع عنه كما في البدائع الخ (درمختار) قوله: وما عدا هذه الرواية اى من رواية مسح الكل او الربع او الثلث او ما يلاقى البشرة او غسل الربع اوالثلث الخ شامى ([4])، (ددې څخه معلومه سوه چی دټولی ږیری مینځل فرض دی مسح کول یې کافی نه دی اوکه چیری ږیره ګڼه وی نو دهغی بیخونو ته اوبه رسول ضروری نه دی مګر که چیري سپکه ږیره وی نوبیا ضروری دی په درمختار کی دی: ثم لا خلاف أن المسترسل لا يجب غسله ومسحه بل يسن وأن الخفيفة التي ترى بشرتها يجب غسل ما تحتها كذا في النهر

---

(1) غسل جميع اللحية فرض يعنى عمليًا ايضا الخ ثم لا خلاف ان المسترسل لا يجب غسله ولا مسحه بل يسن وان الخفيفة التى ترى بشرتها يجب غسل ما تحتها الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار فرائض الوضوء ج۱ ص۹۳، ط. س. ج۱ ص۱۰۰). ظفير

(2) وتكرار الغسل الى الثلث سنة ايضا لمواظبة عليه الصلاة والسلام عليه الخ (غنية المستملى سنن الوضوء ص۲۵) دا غنية المستملى د: کبیری او شرح منیه په نومونو سره مشهوره ده دا دشیخ ابراهیم حلبی تصنیف دی داهم په ډیرو مطبعو کی چاپ سویده اوپه دی فتاوی کی دصفحو حواله دفخر المطابع لکهنو مطبوعه نسخی ته ورکړل سویده. ظفیر

(3) وتحليل اللحية الغير المحرم بعد التثليث (الدر المختار) اى تثليث غسل الوجه امداد الخ روى ابوداؤد عن انس (رض) كان صلّى الله عليه وسلّم اذا توضأ اخذ كفا من ماء تحت حنكه فخلل به لحيته وقال بهذا امرنى ربى (ردالمحتار كتاب الطهارة سنن وضوء ص۱۰۹ ج۱، ط. س. ج۱ ص۱۱۷). ظفير

(4) ردالمحتار كتاب الطهارة بحث وضوء ج۱ ص۹۳ ط. س. ج۱ ص۱۰۰. ظفير

وفي البرهان يجب غسل بشرة لم يسترها الشعر كحاجب وشارب [۱] الخ، په قاضي خان کي دي: ولا يجب ايصال الماء الى منابت الشعر الا ان يكون الشعر قليلا يبدو المنابت الخ، ظفير)

دپښو مينځل فرض دي دشيعه ګانو قول صحيح نه دي: سوال: (۴) شيعه ګان وايې چې په اوداسه کې دپښو مينځل فرض نه دی بلکه مسحه کول دی ددی څه جواب دی ؟

جواب: اودس او تيمم دواړه په نص شرعی ثابت احکام دی دهر يوه تشريح اووضاحت په قرآن پاك کی ذکر دی دعقلی قياسونو ګنجائش نسته پکښي [۲]، (دهمدی وجه څخه په اوداسه کی دپښو مينځل فرض دی اومسح چې دشيعه ګانو قول دی صحيح نه دی. ظفير)

دپښو مينځل په اوداسه کی فرض دي: سوال: (۵) آيا په اودسه کی دپښو مسح کول فرض او مينځل يې سنت دی؟ دا دازالة الخفاء په صفحه ۴۵۹ کی دی، آيا دا صحيح دی اوکه نه ؟

جواب: په اوداسه کي دپښو مينځل فرض دی اوپه نص قطعی يعنی: وَاَرْجُلِكُمْ باندی ثابت دی مسح يوازي پرهغه صورت باندی ثابته ده چې موزې يې په پښو وی، بشرائط المذكورة فی كتب الفقه [۳]. موږ ازالة الخفاء وکتله په هغه کی دامضمون هيڅ ځای هم په سترګو رانغی تاسی چې دکمی صفحی حواله ورکړيده نو ترهغی صفحې پوری دمذکور کتاب دواړه مقصدونه نه دی رسيدلی ځکه چې داول مقصد تولی صفحی ۳۳۲ دی او ددويم مقصد تولی صفحی ۲۸۴ دی، کيدای سی تاسی ترجمه ليدلی وی او اصل کتاب مو نه وی ليدلی کم چې په فارسی ژبه کی دی.

دوهم فصل : داوداسه سنتونه

په اوداسه‌کی دی دواړه لاسونه درې واره ومينځل سي: سوال: (۱\۶) په اوداسه‌کی چې دواړه

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار فرائض الوضوء ص۹۳ ج۱، ط. س. ج۱ ص۱۰۰ – ۱۰۱. ظفير

(۲) اذا قمتم الى الصلوة فاغسلوا وجوهكم الايه ففرض الطهارة غسل الاعضاء الثلاثة ومسح الراس، هدايه كتاب الطهارة ج۱ ص۲۹، وقد ثبت فی الصحيحين من رواية عبد الله بن عمر وابی هريرة ان رسول الله ﷺ رأى قومًا توضأوا وأعقابهم تلوح لم يمسها الماء فقال ويل للعقاب من النار الخ وعن عطاء ما علمت ان احداً من اصحاب رسول الله صلّى الله عليه وسلّم مسح على القدمين فهذا اجماع من الصحابة على وجوب الغسل وهو يؤيد الاحاديث الصحيحة فلا عبرة بمن جوز المسح على القدمين من الشيعة ومن شذ (غنية المستملي ص۱۵ – ۱۶). ظفير

(۳) اركان الوضوء اربعة الخ غسل الوجه الخ وغسل اليدين الخ والرجلين الباديتين السليمتين فان المجروحتين المستورتين بالخف وظيفتهما المسح الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار فرائض الوضوء ص۸۲ – ۹۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۹۳ – ۹۸). ظفير

لاسونه یو وار ومینځل سی او بیاور باندی درې واره اوبه وبهوی داصحیح دی اوکه دا چی پر لاسونو درې واره اوبه وبهوی او وې نه مینځی؟ یعنی څلورم وار هم پکښې راسی ځکه چی ددرې واره څخه زیات منع دی.

پرلاس باندی اوبه دګوتو دطرف څخه اچول پکار دی اوکه نه دځنګلي دطرف څخه؟ سوال: (۷\۲) بعضی خلګ په چپه لاس باندی اوبه دځنګلو دطرف څخه را اچوی دا صحیح دی اوکه مکروه یا بدعت؟

په ګوتو کی خلال څه وخت پکار دی؟ سوال: (۸\۳) دګوتو خلال داودس په وخت کی چی کوی آیا دا دمینځلو په وخت کی پکار دی اوکه نه دمینځلو څخه وروسته؟

جواب: ۱: درې واره مینځل پکار دی او همدا سنت دی پاته سو دلوندولو دپاره یوځل لاس پرګرځول نو په دې کی هیڅ حرج نسته بلکه ښه دی، ددې دپاره چی درې واره اوبه په ښه طریقه وبهیږی. [1]

۲: صحیح دی [2] (مګر مسنونه طریقه داده چی دګوتو دطرفه څخه منیځل شروع کړی. ظفیر)

۳: که دمینځلو په وخت کی یی کوی که وروسته ، هر رنګه صحیح دی [3]. فقط

په پوزه کی داوبو اچولو څخه بغیر اودس صحیح دی مګر دسنت خلاف دی: سوال: (۹) که چیري په اوداسه کی دچا څخه په پوزه کی یا په خوله کی اوبه اچول هیر سی نو اودس به یې وسی اوکه نه؟

جواب: اودس یی وسو مګر سنت پکښی پاته سو. [4] فقط

---

[1] وتثليث الغسل المستوعب ولا عبرة للغرفات ولو اكتفٰى بمرة ان اعتاد اثم والا لا، ولو زاد لطمانينة القلب او لقصد الوضوء على الوضوء لا باس به وحديث فقد تعدٰى محمول على الاعتقاد (درمختار) قوله ولو زاد الخ اشار الى ان الزيادة مثل النقصان فى المنع عنها بلا عذر (رد المحتار كتاب الطهارة سنن الوضوء ج۱ ص۱۱۰ ط. س. ج۱ ص۱۱۸) ددې څخه معلومه سوه چی بغیر دعذر څخه ددرې واره څخه زیات دلاس مینځل منع دی داسی کول نه دی پکار. ظفیر

[2] ومن السنن البداية عن رؤوس الاصابع فى اليدين والرجلين كذا فى فتح القدير (عالمگيرى كشورى فصل ثالث مستحبات وضوء ج۱ ص۷). ظفير

[3] وتخليل اصابع اليدين بالتشبيك والرجلين بخنصر يده اليسرى (درمختار) وفيه عن الظهيرية ان التخليل انما يكون بعد التثليث لانه سنه التثليث (ردالمحتار كتاب الطهارة سنن وضوء ج۱ ص۱۰۹، ط.س. ج۱ ص۱۱۷) ددې څخه معلومه سوه چی کله دری واری مینځل وسی نو ددې څخه وروسته دی خلال وسی. ظفیر

[4] وغسل الفم اى استعابه ولذا عبر بالغسل او للاختصار بمياه ثلثة والانف ببلوغ الماء المارن بمياه وهما سنتان مؤكدتان الخ والمبالغة فيهما بالغرغرة ومجاوزة المارن لغير الصائم (درمختار) قوله وهما سنتان مؤكدتان الخ على الصحيح الخ (رد المحتار كتاب الطهارة سنن الوضوء ص۱۰۷ – ۱۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۱۵). ظ

په اودس او غسل کی داوبو مقدار څه دی؟ سوال: (۱۰) داوس اودغسل په باره کی چی مُد اوصاع راغلی دی ددې ځخه کموالی یا زیاتوالی جائز دی اوکه نه ؟
جواب: مُد او صاع چی په اودس اوغسل کی وارد دی هغه داندازې دتاکنی دپاره نه دی نو دهمدی وجه څخه کمی او زیاتی جائز دی (۱). فقط

دسپینو زرو او مسو په لوښی اودس روا دی: سوال: (۱۱) دسپینو زرو او مسو په لوښی اودس کول څنګه دی؟
جواب: صحیح دی (۲)، فقط والله تعالی اعلم.

دیوې مجبوری په وجه په خولې اوبه لغړول پرېښودل صحیح دی: سوال: (۱۲) که چیري یوڅوك په خولې اوبه ولغړوی نو دهغه دخولی څخه وینه را وزی اوڅه وخت وروسته بندیږی هغه وخت چې دی اودس ختم کړی، کله چی په خولې داوبو په لغړولو سره داودس دماتیدو بیره ده نو دهمدی وجه ځخه که چیري هغه په خوله اوبه ونه لغړوی، اودس وکړي او لمونځ ادا کړی نو لمونځ یې صحیح دی اوکه نه؟
جواب: په داسی حالت کی په خوله اوبه نه لغړول صحیح دی او لغړولو څخه بغیر لمونځ صحیح دی. فقط (۳)

مسواک باید څه وخت ووهل سی؟ سوال: (۱۳) مسواك څه وخت کول په کاردی دغرمی څخه مخکی اوکه وروسته ځکه چی په مسواك سره دخولی بوي لیری کیږی اودا دالله عزّوجل خوښ دی.
جواب: داحنافوپه نزد دروژی په مبارکه میاشت‌کی په هراودس‌کی مسواك وهل مستحب

---

(۱) ثم یفیض الماء علی کل بدنه ثلاثا مستوعبًا من الماء المعهود فی الشرح للوضوء والغسل وهو ثمانية ارطال وقیل المقصود عدم الاسراف وفی الجواهر لا اسراف فی الماء الجاری لانه غیر مضیع (در المختار) وقیل المقصود الاصوب حذف قیل لما فی الحلیة انه نقل غیر واحد اجماع المسلمین علی ان ما یجزئ فی الوضوء والغسل غیر مقدر وما فی ظاهر الروایة من ان نقل ادنی ما یکفی فی الغسل صاع وفی الوضوء مد للحدیث المتفق علیه لیس بتقدیر لازم بل هو بیان ادنی القدر المسنون آه قال فی البحر حتی من اسبغ بدون ذلك اجزاه وان لم یکفه زاد علیه لان طباع الناس واحوالهم مختلفة کذا فی البدائع (رد المحتار کتاب الطهارة سنن الغسل ص۱۴۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۸). ظفیر

(۲) ویکره الاکل فی نحاس او صفر والافضل الخزف (در المختار) وفی الجوهرة اما الانیة من غیر الفضة والذهب فلا باس بالاکل والشرب فیها والانتفاع بها کالحدید والسفر والنحاس والرصاص والخشب والطین اهـ فتنبه (رد المحتار کتاب الحظر والاباحة ص۳۰۰ ج ۵ ط.س. ج۶ ص۳۴۳). ظفیر

(۳) وغسل الفم الخ بمیاه ثلاثة والانف بمیاه وهما سنتان مؤکدتان (در المختار) فلو ترکها اثم علی الصحیح سراج قال فی الحلیة لعله محمول علی ما اذا جعل الترك عادة له من غیر عذر (رد المحتار سنن وضوء ص۱۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۱۳). ظفیر

دی ([1]) په روژه کی دزوال څخه وروسته په ماپښین او مازیګر کی هم مستحب دی ځکه هغه بد بویی کمه چی باری تعالی ته محبوبه ده هغه دمسواك وهلو څخه وروسته هم باقی وی ([2]).

دسر دمسحی طریقه: **سوال**: (۱۴) په یوه لاس سره مسحه کول څنګه دی؟

جواب: دسر په مسحه کی سنّت طریقه داده چی په دواړو لاسونو وسی ([3]) خو که چیري په یوه لاس وسی نومسحه کیږی مګر دسنت طریقی موافق نه ده ([4]). فقط

دمسواک مقدار څومره دی؟ **سوال**: (۱۵) دمسواك مقدار څومره دی؟

جواب: په درالمختار کی دی چی دمسواك داوږدوالی مقدار یوه لویشت مستحب دی مګر ظاهره داده چی په اصل کی ددی څه اندازه نسته چی دڅومره مسواك څخه کار واخیستل سی کافی دی مګر علماءِ کرامو ویلی دی چی اول وار یې یوه لویشت کیدل ښه اوبهتر دی. ([5]) فقط

که جمعه ولاړه وی نو بیا هم ټول اودس په کاردی اوکه سنت پریږدی؟ **سوال**: (۱۶) که چیري جمعه ختمیدو ته نژدی وی نو داودس فرضونه ادا کول اوپه جمعه کی برخه اخیستل بهتردی اوکه نه ټول سنت ادا کول او یوازي لمونځ کول؟

جواب: داوداسه ټول سنت ادا کول ضروری دی اګر که جمعه فوت کیږی هم ([6]).

([1]) والسواك سنة مؤكدة عند المضمضة وقيل قبلها وهو للوضوء عندنا (در المختار) ای سنة للوضوء (رد المحتار قبيل مطلب فی منافع السواك (ص۱۰۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۱۳). ظفير

([2]) ولا بأس بالسواك الرطب بالغداة والعشى للصائم لقوله صلّى الله عليه وسلّم: خير خلال الصائم السواك من غير فصل وقال الشافعي يكره بالعشى لما فيه من ازالة الاثر المحمود وهو الخلوف فشابه دم الشهيد قلنا هو اثر العبادة والاليق به الاخفاء بخلاف دم الشهيد لانه اثر الظلم (هدايه باب ما يوجب القضاء ج۱ ص۲۰۳). ظفير

([3]) ومنها مسح كل الراأس مرة والاظهر انه يضع كفيه واصابعه على مقدم رأسه ويمدهما الى قفاه على وجه يستوعب جميع الرأس (عالمگيرى الفصل الثانى فى الوضوء ج۱ ص۷). ظفير

([4]) ومسح كل رأس مرة مستوعبة فلو تركه وداوم عليه اثم (در المختار) والاظهر انه يضع كفيه واصابعه على مقدم رأسه ويمدهما الى القفا على وجه يستوعب جميع الرأس (رد المحتار كتاب الطهارة سنن الوضوء ص۱۱۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۲۰) ولو كان فى كفه بلل فمسح به اجزاه (عالمگيرى كشورى ج۱ ص۴). ظفير

([5]) ثم المستحب ان يكون السواك من شجرة الخ وان يكون طول شبر في غلظ الخنصر (غنية المستملي ص۳۲) والسواك الخ وكونه لينا مستويا بلا عقد في غلظ الخنصر وطول شبر الخ ولا يزاد على الشبر الخ (الدر المختار) قوله طول شبر الظاهر انه في ابتداء استعماله فلا يضر نقصه بعد ذلك بالقطع منه لتسوية تامل وهل المراد شبر المستعمل او المعتاد الظاهر الثاني لانه محل الاطلاق غالبًا (رد المحتار كتاب الطهارة سنن الوضوء ج۱ ص۱۰۶ – ۱۰۷، ط.س. ج۱ ص۱۱۴) ددي څخه معلومه سوه چی ترلویشت کم وی مسواك اوكه تر لويشت ډير اوږد وی نو هغه ښه نه دی، والله اعلم. ظفير

([6]) قال رسول ﷺ اسبغو الوضوء رواه مسلم (مشكوة باب سنن الوضوء فصل اول) ای اتموه باتيان فرائضه =

په اودس کی دتقاطر شرطوالي: **سوال**: (۱۷) داوداسه دصحت دپاره تقاطر شرط دی اوکه چیري وچ ځای باقی پاته سی نو بیا یې لوندول کافی کیږی، نو آیا په دې اندام کي تقاطر پاته نه سو په دې وجه باندی خو په کارده چی اودس ونه سی، او همدارنګه دغسل حکم هم دی؟

جواب: په یو اندام کی یی دلوندوالی نقلیدل په اوداسه کی صحیح لیکلی دی اوپه غسل کی په ټول بدن کی دلوندوالی نقلیدل صحیح دی اوتقاطر پکښی شرط دی: وصح نقل بلة عضو الی عضو اخر فیه بشرط التقاطر صرح به فی فتح القدیر قوله الی عضو اخر الخ مفاده انه لو اتحد العضو صح فی الوضوء ایضا (۱)، او دتقاطر دشرط کیدلو ښخه دا معلومه سوه چی په دې کی هم دڅاڅکو ښخول شرط دی. فقط

دریم فصل : داوداسه مستحبات او آداب

داودس ښخه وروسته په دستمال سره مخ او لاس وچول روا دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۸) داودس کولو ښخه وروسته په دستمال سره بدن وچول صحیح دی اوکه نه؟ اوبعض خلګ وایی چی کله دړیری ښخه اوبه پرڅمکه توی سی نو فرشتو ته یې په پورته کولو کی سختی وی دا ترکمه ځایه صحیح ده؟

جواب: داوداسه اندامونه په دستمال سره وچول مستحب او دادابو ښخه شمېرل کیږی په در المختار کی دی: ومن الاداب تعاهد موقیه وکعبیه الخ والتمسح بمندیل الخ (۲) اوپه شامی کی یې ددی ډیر تفصیل کړی دی لنډه داده چی په دستمال سره دځان وچول مکروه نه دی بلکه روا دی او دمخ وچول هم صحیح دی او دړیری هم اوکه چیري وچ نه کړل سی نو په دی کی هم څه حرج نسته (۳) اودا خبره چی دړیری ښخه په لویدلو اوبو کی فرشتو ته تکلیف دی بی بنیاده ده.

په یوه لاس اودس کول صحیح دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۹) په یوه لاس سره اودس کول صحیح دی اوکه نه ؟

= وسننه او اکملوا واجباته (مرقاة ج۱ ص۳۱۰). ظفیر

(۱) ردالمحتار کتاب الطهارة ابحاث الغسل ص۱۴۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۴۹. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطهارة مطلب فی التمسح بمندیل ص۱۲۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۳۱. ظفیر

(۳) وإنما وقع الخلاف في الكراهة ففي الخانية ولا بأس للمتوضئ والمغتسل روي عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه كان يفعله ومنهم من كره ذلك ومنهم من كرهه للمتوضئ دون المغتسل والصحيح ما قلنا إلا أنه ينبغي أن لا يبالغ ولا يستقصي فيبقي أثر الوضوء على أعضائه (رد المحتار كتاب الطهارة مطلب فى التمسح بمنديل ص۱۲۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۳۱). ظفير

جواب: درست دی خو خلافِ سنت دی بغیر دضرورت څخه دي داسی نه کوی. ([۱]) فقط

دڅټ مسح: **سوال**: (۲۰) پرڅټ باندی دمسح کولو په وخت کی کمی ګوتی راکشوی؟ دافعل څنګه دی؟

جواب: دڅټ مسحه دګوتو دشا په طرف کولو سره لکه څنګه چی مشهوره ده صحیح ده ([۲]). فقط

دمخ مینځل په یوه لاس دي اوکه په دواړو لاسونو؟ **سوال**: (۲۱) په اوداسه کی دمخ مینځل په دواړو لاسونو کول په کاردی اوکه نه په یوه لاس سره؟

جواب: په اوداسه کی دمخ مینځل په دواړو لاسونو پکار دی که چیري عذر نه وی: کما یظهر من قوله ومستحب الخ التیامن في الیدین والرجلین لا الاذینن والخدین الخ (درالمختار) قوله لا الاذنین فیمسحهما معًا ان امکنه الخ شامی قوله التیامن ای البدء بالیمین الخ شامی ([۳]). فقط

دلاس مینځل دکم طرف څخه شروع کیږي؟ **سوال**: (۲۲) په اوداسه کی دګوتو دطرف څخه اوبه څنګلو ته اوکه نه دڅنګلو طرف څخه دګوتو طرف ته بیول کیږي ؟

جواب: داحایثو مبارکو څخه زیات راجح دا معلومیږی چی دڅنګلو څخه دګوتو طرف ته اوبه توی کړی، پاته سو جواز نو دواړه صورتونه جائز اوروا دی. ([۴]) فقط

دلاسونو په مینځلو کی شروع دکم طرف څخه باید وسی؟ **سوال**: (۲۳) زید وایی چی په اوداسه کی دلاسونو مینځل اول باید دګوتو دخوا څخه وسی چی اوبه پرڅنګلو توی سی ځکه چی په قرآن پاك کی د: الی المرفق الفاظ راغلی دی اوعمر وایی چی په حدیث پاك کی: ادرار الماء علی المرفق راغلی دی نو باید پر څنګلو اوبه واچول سی چی دګوتو طرف ته

([۱]) قال ابن عباس (رض) دخل علی علی وقد اهرق الماء فدعا بوضوء بنحوه وفیه تمضض واستنشر ثم ادخل یدیه فی الاناء جمیعًا فاخذ بهما حفنة من ماء فضرب بها علی وجهه الحدیث (جمع الفوائد صفة الوضوء ص۳۵ ج۱). ظفیر

([۲]) ومستحبه التیامن الخ ومسح الرقبة بظهر یدیه (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطهارة مستحبات وضوء ج۱ ص۱۱۵، ط.س. ج۱ ص۱۲۳ – ۱۲۴). ظفیر

([۳]) ردالمحتار کتاب الطهارة مستحبات الوضوء ص۱۱۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۲۴، قال ابن عباس (رض) اتحبون ان اریکم کیف کان رسول ﷺ یتوضاء فدعا باناء فیه ماء فاغترف غرفة بیده الیمنی فتمضمض واستنشق ثم اخذ اخری فجمع بها یدیه ثم غسل وجهه الخ (جمع الفوائد صفة الوضوء ج۱ ص۳۶). ظفیر

([۴]) داسی حدیث پیدا نه سو چی په هغه کی ددی صراحت وی چی دګوتو دخوا څخه مینځل شروع کول سنت دی: ومن السنن البدایة من رئوس الاصابع فی الیدین والرجلین کذا فی فتح القدیر وهکذا فی المحیط (عالمګیری کشوری الفصل الثالث فی المستحبات ص۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۸) والبدُ باعلی الوجه واطراف الاصا بع ومقدم الرأس وقدمنا ان الاخرین سنة (رد المحتار کتاب الطهارت مطلب فی تیمم مندوبات الوضوء ط.س. ج۱ ص۱۲۴). ظفیر

ولاړې سی نو: يبدأ من الاصابع راغلی دي اوکه من المرفق راغلی دي؟
جواب: دواړي طريقی صحيح دی مگر داحاديثو څخه دڅنگلو لخوا دگوتو طرف ته داوبو بيول معلوميږي. (۱) فقط

داوداسه داوبو اندازه: **سوال**: (۲۴) داودس کولو دپاره څومره اوبه را اخيستل په کاردی پنځه سيره اوبه را اخيستل روا دی اوکه نه؟
جواب: اودس په يو مُد اوبو سره کيدای سی اوپه حديث پاك کی همداسی راغلی دی مقصد دادی چی دوه يو نيم مُده يعنی پاو باندی يو سير اوبه دی وی (۲) اوپه اوداسه کی اسراف کول مکروه دی. (۳) فقط

څلورم فصل : داوداسه ماتونکی

دهغه چا خوب چی دانفلات الريح مرض يی وی ناقض دوضوء دی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۵) که چيري ديوچا دريح دوتلو مرض وی دده په حق کی خوب اودس ماتونکی دی اوکه نه؟
جواب: هغه څوك چی دريح دوتلو مرض لری خوب يی اودس ماتونکی دی اوکه نه؟ نو په دې کی دوه قوله دی شامی ليکلی دي چی صحيح داده چی دده خوب اودس ماتونکی نه دی. (۴) فقط

دسترگو څخه داوبو را تويېدل ناقض وضوء دی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۶) دفقه په عامو کتابونو کی ليکل سويدی چی دسترگو دخوږيدلو يا دگذار خوړلو يا پکښی دخاورو دلويدو

---

(۱) ومن السنن البدايه من رؤوس الاصابع فی اليدين والرجلين كذا فی فتح القدير وهكذا فی المحيط (عالمگيری کشوری مستحباب وضوء ج۱ ص۷، ط. ماجدية ج۱ ص۸) داسی حديث په کم کی چی صراحت وی چه دمرفق څخه دي دگوتو طرفته أوبه وبهوی پيدا نه سو، دقرآن دالفاظو: الی المرافق او الی الكعبين څخه دفقهاؤ تائيد کيږي، والله أعلم. ظفير

(۲) عن انس قال كان النبی ﷺ التوضاء بالمد ويغتسل بالصاع الی خمسة امداد متفق عليه (مشكوة باب الغسل ص۴۸). ظفير

(۳) ومكروهه لطم الوجه او غيره بالماء تنزيها والتقتير والاسراف ومنه الزيادة علی الثلث فيه تحريما ولو بماء النهر المملوك له (الدر المختار) قوله: والاسراف ای بان يستعمل منه فوق الحاجة الشرعية وقال في البدائع انه الصحيح حتی لو زاد او نقص واعتقد ان الثلاث سنة لا يلحقه الوعيد وقدمناه انه صريح في عدم كراهة ذلك يعني كراهة تحريم (ردالمحتار كتاب الطهارة مطلب في تعريف المكروه ص۱۲۲ ج۱). ظفير

(۴) وينقضه نوم (درمختار) أقول ينبغي أن يكون عينه ناقضا اتفاقا فيمن فيه انفلات ريح إذ ما لا يخلو عنه النائم لو تحقق وجوده لم ينقض فالمتوهم أولی نهر قلت: فيه نظر والأحسن ما في فتاوی ابن الشلبي حيث قال: سئلت عن شخص به انفلات ريح هل ينقض وضوءه بالنوم ؟ فأجبت بعدم النقض بناء علی ما هو الصحيح من أن النوم نفسه ليس بناقض وإنما الناقض ما يخرج ومن ذهب إلی أن النوم نفسه ناقض لزم النقض (ردالمحتار نواقض الوضوء ص۱۳۰ – ۱۳۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۴۱). ظفير

دوجهی څخه یا ددرد دپیدا کیدو دوجهی یعنی په ټولو صورتونو کی چی کله درد پیداسی او اوبه ورڅخه ولاړي سی نودا اوبه نجسي دی او داودس ماتونکی دی، او دحضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی قدس سره په فتاوٰی رشیدیه دویمه حصه ص۲۷ کی لیکل سویدی چی ددغو اوبو په وتلو سره اودس نه ماتیږی اوپاکي دی اګر چی بعضو ورته نجسي ویلی دی مګر هغه دتحقیق خلاف دی؟

جواب: دسترګو دخوږیدلو دوجهی څخه چی کمی اوبه ووزی په هغوکی تحقیق قول هم هغه دی کم چی حضرت مولانا رشید احمد صاحب قدس سره لیکلی دی ددی مسئلی بحث په در المختار اوشامی ج۱ ص۱۳۷ کی دارنګه دی چی صاحب ددرمختار دا لیکلی دي: چی دا اوبه نجسی او داودس ماتونکی دی دهغه عبارت دادی: فدمع من بعینه رمد او عمش ناقض الخ ([1]) پردی باندی علامه شامی دامام ابن همام دا تحقیق نقل کړی دی چی په داسی صورت کی داودس امر استحبابی دی وجوبی نه دی لکه څرنګه چی دامام محمد دکلام څخه معلومیږی نو معلومه سوه چی دغه اوبه اودس ماتونکی نه دی، دشامی عبارت دادی: قوله ناقض الخ قال فی المنية وعن محمد رحمه الله اذا كان في عينه رمد وتسيل الدموع منها امره بالوضوء لوقت كل صلاة لاني اخاف ان يكون ما يسيل منها صديدا فيكون صاحب العذر اه ([2]) ددی عبارت څخه معلومیږی چی دابن همام تحقیق دادی چی دا اوبه اودس ماتونکی نه دی اوهمدا قول دشرعی قواعدو موافق دی او راجح هم دی. ([3]) فقط

که چیري قطره دباندي راو نه وزي او دننه معلومیږي نو اودس ماتیږي اوکه نه؟ سوال: (۲۷) دکم چا څخه چی قطرې (څاڅکي) وزی که چیري ونه وزي بلکه په سوری کی په نظر راځی نو اودس یی باقی دی اوکه نه؟

جواب: اودس یی باقی دی ترڅو چی ترخولی دباندي نه وی ښکاره سوی نو اودس نه ماتیږی ([4]).

([1]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطهارة نواقض الوضوء ص۱۳۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۴۷ – ۱۴۸. ظفیر

([2]) ردالمحتار کتاب الطهارة نواقض الو ضوء ج۱ ص۱۳۷، ط.س. ج۱ ص۱۴۸. ظفیر

([3]) قال فی الفتح وهذا التعليل يقتضى انه امر استحباب فان الشك والاحتمال لا يوجب الحكم بالنقص اذ اليقين لايزول بالشك نعم اذا علم باخبار الاطباء او بعلامات تغلب ظن المبتلى يجب انه الخ وقد استدرك فى البحر على ما فى الفتح بقوله لكن صرح فى السراج بانه صاحب عذر فكان للايجاب ويشهد له قول المجتبى ينتقض وضوءه (ردالمحتار نواقض الوضوءج۱ ص۱۳۷، ط.س. ج۱ ص۱۴۸) ددی تفصیل څخه معلومیږی چه داختلاف بنیاد پرأوبو باندی دی چه هغه دمرض په وجی سره راځی اوهغه زوِی (نوونه) دی اوکه داسی نه راځی، والله اعلم. محمد ظفیر الدین غفر له =

دزنګون یا بل عورت په ښکاره کیدو سره اودس نه ماتیږي: سوال: (۲۸) دامشهوره ده چې دزنګون په ښکاره کیدو سره اودس ماتیږي، نو دکم عورت په ښکاره کیدو سره اودس ماتیږي؟

سوال: (۲۹) دعورت په لیدو سره یا په لاس وروړلو سره اودس ماتیږي اوکه نه؟

جواب: (۱) دا مشهور غلط دی دهیڅ عورت په ښکاره کیدو سره اودس نه ختمیږي ([1]).

(۲) اودس نه ماتیږي ([2]). فقط

کم خوب اودس ماتونکی دی؟ سوال: (۳۰) مطلق نوم دخوب اودس ماتونکی دی اوکه نه دخوب یو خاص حالت؟

جواب: هغه خوب چې داودس ماتونکی دی هغه په پروتي خوب دی که چیري څوك په ناسته بیده سی یا په سجده کی بیده سی نو اودس یې نه ماتیږي ([3]).

وینه چې پر لاړو غالبه وي نو اودس ماتوي: سوال: (۳۱) که چیري یو څوك داودس په وخت کی مسواك استعمالوی او دخولی وغیره مینځلو څخه وروسته دهغه دغاښونو څخه وینه راځی نو اودس به دوباره کوی اوکه نه ؟

جواب: په داسی حالت کی دوباره اودس کول په کاردي ([4]).

درانجو دتیزوالي یا دسلایی دلګیدلو دوجهی څخه چې کمی اوبه را وزی هغه اودس نه ماتوي: سوال: (۳۲) درانجو دتیزوالی یا دسلایی دلګیدلو دوجه څخه چې کمی اوبه را وزی آیا دغه اوبه اودس ماتوی اوکه نه ؟

جواب: اودس نه ماتوی ([5]).

([4]) کما ینقض لو حشا احلیله بقطنة وابتل الطرف الظاهر هذا لو القطنة عالیة او محاذیة وان مسفلة عنه لا ینقض الخ وابتل الطرف الداخل لا ینقض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطهارة نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۸، ط.س. ج۱ ص۱۴۸). ظفیر

([1]) دسترعورت ښکاره کیدل په نواقضودوضوء کي نه دي دهمدې وجه څخه ددې جزئیې یادونه چا نه ده کړې. ظ

([2]) لا ینقضه مس ذکر لکن یغسل یده ندبًا وامرأة وامرد الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطهارة نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۲، ط.س. ج۱ ص۱۴۷). ظفیر

([3]) ینقضه حکما نوم یزل مسکة ای قوته الماسکة بحیث تزول مقعدته من الارض وهو نوم علی احد جنبیه او ورکیه او قفاه او وجهه (درمختار) ان النوم في الصلوة قائماً او قاعداً او ساجدا لا یکون حدثا سواء غلبه النوم او تعمده الخ (ردالمحتار تحت مطلب نوم من به انفلات الریح ص۱۳۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۴۱). ظفیر

([4]) وینقضه دم مائع من جوف او فم غلب علی بزاق حکما للغالب او ساواه احتیاطا الخ (الدر المختار علی هامش رالمحتار مطلب باب الوضو ج۱ ص۱۲۸، ط.س. ج۱ ص۱۳۸) ظفیر

([5]) کما لا ینقض لو خرج من اذنه ونحوها کعینه وثدیه ..... قیح ونحوه کصدید وماء سرة وعین لا بوجع، وان خرج به ای بوجع نقض لانه دلیل الجرح فدمع من بعینیه رمد او عمش ناقض فان استمر صار ذا عذر (درمختار)=

دښځې دسینې څخه دشیدو وتل اودس نه ماتوي: **سوال**: (۳۳) دښځې دسینې څخه دشیدو په وتلو سره اودس ماتیږي اوکه نه ؟

جواب: دا اودس ماتونکی نه دی: وینقضه خروج کل خارج نجس (۱) منه، نوهر هغه شی چې نجس نه وي او ووزي اودس نه ماتوي.

هغه لوندوالی چې بهرته رانه سي هغه داوداسه ماتوونکی دی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۴) کله چې دبواسیرو دانه دموادو دوتلو څخه وروسته دسپوني په ځير سی اوپه هغې کې لوندوالی موجود سی خو بهیدنکی نه وي مګر په کښېنستو او ولاړیدو کې دجامو سره لګیږي نو آیا په دې صورت کې اودس ماتیږي اوجامه نجسه ګرځي اوکه نه؟

جواب: هغه لوندوالی اورطوبت چې دزخم څخه بهر را ونه وزي او بهیدونکی نه وي نو په هغه سره اودس نه ماتیږي (۲) کذا فی کتب الفقه. اوجامه هم نه په پلیتیږي ځکه چې فقهاءِ کرام یوه عامه قاعده لیکې: وما لیس بحدث لیس بنجس، (۳) نو هغه صورت چې تاسې لیکلی دی په دې کې نه اودس ماتیږي اونه جامه پلیتیږي. فقط

زخم ته په زور ورکولو سره چې کم مواد راووزي نوهغه ناقض وضوء دی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۵) زخم په داسې ځای کې وجود لري چې په ناستې او ولاړې سره زور پر راځي او دزور دوجه څخه دهغه څخه رطوبت راوزي نو ددغه رطوبت راوتل داودس ماتونکی دی اوکه نه؟ او همدارنګه په خپله زور اخیستلو یا په قصد باندې په زور ورکولو کې څه فرق سته اوکه نه ؟

جواب: په زور اخیستلو یا زور ورکولو سره که چیرې بهیدونکی رطوبت ووزي او دزخم دځای څخه وبهیږي نوپه دې سره اودس ماتیږي اوکه بهر سی خو دزخم پر ځای پاته سی او ونه بهیږي نوپه دې سره اودس نه ماتیږي لنډه داچې په قصد سره په زور اخیستلو یا بغیر دقصد څخه زور ورکول دواړه برابر دی که چیرې په زورسره راوتلی رطوبت بهر سی

= قوله: لا بوجع تقیید لعدم النقض بخروج ذلك الخ (ردالمحتار کتاب الطهارة نواقض الوضوء ص۱۳۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۴۷). ظفیر

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب نواقض الوضوء ص۱۲۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۳۴. ظفیر

(۲) وینقضه خروج کل خارج نجس منه الخ الی ما یطهر الخ ثم المراد بالخروج من السبیلین مجرد الظهور وفي غیرهما عین السیلان ولو بالقوة ، لما قالوا: لو مسح الدم کلما خرج ولو ترکه لسال نقض وإلا لا ، کما لو سأل في باطن عین أو جرح (درمختار) وفي السراج عن الینابیع : الدم السائل علی الجراحة إذا لم یتجاوز وقال بعضهم: هو طاهر حتی لو صلی رجل بجنبه وأصابه منه أکثر من قدر الدرهم جازت صلاته وبهذا أخذ الکرخي وهو الأظهر الخ (رد المحتار مطلب نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۴، ط.س. ج۱ ص۱۴۴). ظفیر

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب نواقض الوضوء ص۱۳۰ ج۱. ظفیر

او وبهيږي نو اودس په ماتيږي ([1]).

هغه اودس چې دجنازې دلمانځه دپاره سوي وي په هغه باندې فرضي لمونځ: **سوال**: (۳۶) په کم اودس چي دجنازې لمنځ ادا سوی وی په هغه نور فرضی لمونځونه ادا کول صحيح دی اوکه نه ؟

جواب: په کم اودس چي دجنازی لمونځ ادا سوی وی نور فرضی لمونځونه ادا کول په هغه صحيح دی. ([2]) فقط

زنګون او ورون چې په اودس کی ښکاره سي نو اودس کيږي اوکه نه؟ **سوال**: (۳۷) که چيري په اوداسه کی بی له عذر څخه زنګنونه ښکاره سی اوجامه ورنونو ته ورسيږی نو اودس يی کيږی اوکه نه ؟

جواب: في الشامی فالرکبة من العورة الخ ([3]) نومعلومه سوه چی زنګون عورت دی اوپه لمانځه کی يی پټول ضروری دی اوپه اوداسه کي ددی ښکاره کيدل داودس دفساد سبب نه ګرځی کما هو ظاهر. فقط

که دپنبه ؤ دوجه څخه دمتيازو څاڅکي بهرته رانه سي نواودس نه ماتيږي: **سوال**: (۳۸) که چيري اودس کونکی دمتيازو دبيری څخه په سر دذکرکی پنبه ورکړی ددې څخه وروسته بيا په لمانځه کی يا دلمانځه څخه خارج دمثانی څخه څاڅکی راکښته سی مګر دپنبه ؤ دوجه څخه دباندې راونه وزی نوپه دغه صورت کی اودس باطل دی اوکه نه؟

جواب: که چيري دمثانی څخه څاڅکی خارج سی اوبهر ته را ونه وزی او دپنبه ؤ پر سربيرنه حصه دلوندوالی څه اثر موجود نه وی نواودس نه ماتيږی اوکه چيري دپنبه ؤ پر سربيرنه حصه دلوندوالی اثر وی نو اودس ماتيږی کذا فی الدرالمختار ([4]).

چې وينه را ووزي او وبهيږي نواودس ماتيږي: **سوال**: (۳۹) ځينی خلګ وايی چی دوينی په

([1]) وينقضه خروج نجس منه الخ الی ما يطهر الخ ثم المراد بالخروج من السبيلين مجرد الظهور او في غيرهما عين السيلان ولو بالقوة ، لما قالوا: لو مسح الدم کلما خرج ولو ترکه لسال نقض وإلا لا (درمختار) عين السيلان اختلف في تفسيره ففي المحيط عن أبي يوسف أن يعلو او ينحدر وعن محمد إذا انتفخ علی رأس الجرح وصار أکثر من رأسه نقض . والصحيح لا ينقض اه قال في الفتح بعد نقله ذلك وفي الدراية جعل قول محمد أصح ومختار السرخسي الأول وهو الأولی اه أقول وكذا صححه قاضي خان وغيره (ردالمحتار مطلب نواقض الوضوء، ط.س. ج۱ ص۱۳۴). ظفير

([2]) ځکه چی ترڅوپوری اودس باقی وی نوپه هغه سره چه څومره غواړی لمونځونه کولی سی اودس شرط دی. ظ

([3]) ردالمحتار باب شروط الصلوة مطلب فی ستر العورة ج۱ ص۳۷۵، ط.س. ج۱ ص۴۰۴. ظفير

([4]) کما ينقض لو حشا إحليله بقطنة وابتل الطرف الظاهر الخ وان ابتل الطرف الداخل لا ينقض (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضو ج۱ ص۱۳۸، ط.س. ج۱ ص۱۴۸) معلومه سوه چه دمتيازودمثانی صرف تلل ناقضِ وضوء نه دی بلکه داندام څخه دباندي راتلل يې شرط دی. ظفير

وتلو اوبهيدلو سره اودس نه ماتيږی او وايي چی دادحديث څخه ثابت دی اودامام اعظم رحمه الله په مذهب کی اودس په ماتيږی دده رحمه الله استدلال دکم ځای څخه ثابت دی؟

جواب: دده استدلال دآيت شريف (او دمًا مسفوحًا) څخه دی. ([1]) فقط

ښځی ته په لاس وروړلو سره اودس ماتيږی اوکه نه: **سوال**: (۴۰) که چيري ښځه او خاوند داودس په حالت کی پر يوبل باندی ومښليږی نو اودس يی باقی پاته دی اوکه نه؟ په داسی حال کی چی کپړه هم حائله نه وی؟

جواب: مباشرت فاحشه يعنی چی کله دواړه شرمګاوي دپردی او دحائل څخه بغير نژدی سوی وی نو اودس ماتيږی ([2]) فقط (مګر په لاس يا بل شی سره يی که بدن ولګيدی نو اودس يی نه ماتيږی ([3])، ظفير). فقط

که ځاځکی بهر ته را ووتی نو اودس ماتيږی اوکه نه ووتی نو نه ماتيږی: **سوال**: (۴۱) که چيري خطيب ته دخطبی ويلو په مهال شك پيدا سو چي دتناسلي آلي څخه ځاځکی راکښته سو، دخطبي څخه وروسته هغه دتناسل آلي ته په لاس وروړلو سره لوندوالی ونه موندی نو هغه اودس ونه کی او دهمدي شك په حالت کي يې دجُمعی لمونځ ورکړی دلمانځه څخه وروسته يی دتناسل آله کښېکښله چي په کښېکښلو سره لږ لوندوالی معلوم سو نو اوس دخلګو لمونځ وسو او که نه؟

جواب: په دي صورت کي دمقتديانو لمونځ وسو ځکه چي په شبهي سره لمونځ نه فاسديږی، او دلته خو دڅاځکي دراوتلو شبهه هم نسته ځکه هغه په خپل لاس وکتی چي

([1]) المعاني الناقضة للوضوء كل ما يخرج من السبيلين الخ والدم والقيح إذا خرجا الخ ولنا قوله عليه السلام الوضوء من دم سائل الخ (هدايه) اخرجه الدارقطني ووجه الإستدلال أن مثل هذا التركيب يفهم منه الوجوب كما فی قوله ﷺ فی خمس من الإبل شاة ولا خلاف فی فرضيته وقوله عليه السلام إنما الماء من الماء ولا خلاف في وجوب الغسل بسبب خروج المنى فكان معناه توضؤوا من كل دم سال من البدن وإنما عبر عنه بلفظ الخبر لكونه آكد فی الدلالة على الوجوب كأنه أمر فامتثل أمره فاخبر عن ذلك وهو آية كونه واجبا فإن الأمر إذا كان ممن لايكذب فی كلامه يعبر عنه مطلوبه بلفظ الخبر تاكيدا للطلب لأن فی تركه تكذيبا له وهو ممن لايكذب على ما عرف فی موضعه، فان قيل سلمنا لكن يجوز أن يكون المراد الوضوء اللغوي قلنا ذاك مجاز شرعي ولا تترك الحقيقة الشرعية فی كلام الشارع بلا دليل (عناية على هامش فتح القدير ج۱ ص۳۵) دهدايي څلور شرح مصري هم په مختلفو مطابعو کي چاپ سوي دي، خاکسار که چيری عنايه، کفايه اوفتح القدير ته حواله ورکړی وه نو په هغو کي صفحي دمطبعه ميمنه دمصر دچاپ دي. ظفير الدين غفر له

([2]) وينقضه خروج نجس الخ ومباشرة فاحشة بتماس الفرجين ولو بين المرأتين والرجلين مع الإنتشار للجانبين المباشر والمباشر له ولو بلا بلل على المعتمد (الدر المختار على هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۲. ط. س. ج۱ ص۱۴۷). ظفير

([3]) لا ينقضه مس ذكر الخ وإمرأة وأمرد (ايضاً ط.س. ج۱ ص۱۴۷). ظفير

لوندوالی نه وو، او وروسته چي کله په کنبیښکلو سره څاڅکی را ووتی نو معلومه سوه چي هغه لوړ بند وو او داقاعده ده چي ترڅو څاڅکی ظاهر سوی نه وي ترهغو پوري اودس نه ماتیږي. کما فی الدرالمختار ثم المراد بالخروج من السبیلین مجرد الظهور الخ ([1]) وفیه ایضا وإن إبتل الطرف الداخل لا ینقض الخ ([2]). فقط

دڅاڅکي اثر دذکر دسر پر پنبه باندي: **سوال**: (۴۲) یو سړي دذکر په سر کي احتیاطًا څو غبرګه پنبه ایږدي او دغه پنبه ټول په متیازو لانده دي نوکه چیري خارج طرف ته لوندوالی معلوم سي نو اودس به یې باقي وي اوکه نه؟ او بل دا چي په دغه پنبه کي به په اعتبار دطول او دعرض ددرهم لحاظ وي اوکه نه؟

جواب: که لوندوالی دباندي برخي ته راغی نو اودس ماتیږي اوکه نه راغی نه ماتیږي، او په دي کي ددرهم دمقدار لحاظ نسته. ([3]) فقط

دلمانځه په حالت کی دماشوم شیدي چیښل: **سوال**: (۴۳\۱) ښځه لمونځ کوي او ماشوم راغی په التحیات کي یې شیدي وځیښلي دلمانځه او اوداسه دبیا کولو ضرورت سته اوکه نه؟

سوال: (۴۴\۲) ښځي اودس وکی او بیا یې ماشوم ته شیدي ورکړي اودس بیا ور باندي واجب دی اوکه نه؟

جواب: ۱: په دي صورت کي اودس نه ماتیږي ځکه دنجس شي خروج نه دی راغلی او لمونځ فاسدیږي: لحصول الإرضاع کذا فی الدر المختار قال فی الدر المختار فی مفسدات الصلوة او مصّ ثدیها ثلاثا الخ وقال فی رد المحتار وفي المحیط إن خرج اللبن فسدت لأنه یکون إرضاعا وإلا فلا ولم یقیده بعدد وصححه فی المعراج حلیه وبحر ([4]).

۲: دهمدي جواب څخه څرګنده سوه چي اودس یی نه ماتیږي: لعدم خروج النجس کذا في کتب الفقه. ([5])

([1]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۲۵. ط. س. ج۱ ص۱۳۴. ظفیر

([2]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطهارة نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۵. ط. س. ج۱ ص۱۳۲. ظفیر

([3]) لو حشا إحلیله بقطنة وابتل الطرف الظاهر هذا لو القطنة عالیة او محاذیة لرأس الإحلیل وإن مسفلة عنه لا ینقض وکذا الحکم فی الدبر والفرج الداخل وإن إبتل الطرف الداخل لا ینقض ولو سقطت فان رطبة إنتقض والا لا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۸، ط.س. ج۱ ص۱۴۸). ظفیر

([4]) ردالمحتار باب ما یفسد الصلوة وما یکره فیها جلد اول ص۵۸۷، ط.س. ج۱ ص۶۲۸. ظفیر

([5]) وینقضه خروج کل خارج نجس منه الخ لاینقض لو خرج من اذنه ونحوها کعینه وثدیه قیح ونحوه کصدید وماء وسرة وعین (الدر المختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۲۷، ط.س. ج۱ ص۱۳۲) شیدي نجسي نه دي نو ځکه یی په وتلو اودس نه ماتیږی، والله اعلم. ظفیر

داوداسه په حالت کې پر ښځه باندي دشهوت نظر اچول اودس نه ماتوي: **سوال**: (۴۵) کم سړی چي اودس لري او دهغه نظر په شهوت سره پریوه ښځه ولګیږي اودس به پاته وي او که نه؟

جواب: په شهوت سره په نظر باندي که چیري مذي او یا بل څه ووتل اودس ماتبږي اوکه هیڅ شی ونه وتل نو اودس نه ماتیږي. (١) فقط

که داوداسه په وخت کې بې اودسي پیښه سي نو اودس دي له سره وکړي: **سوال**: (۴۶) ما قولکم رحمکم الله فی أنه رجل یتوضأ وقد أحدث فی إثناء الوضوء مثلا أحدث بعد غسل الیدین وقبل المسح وغسل الرجلین فهل یجب علیه إستیناف الوضوء ام لا؟

جواب: یجب علیه إستیناف الوضوء لأن الحدث مناف للطهارة وخروجٍ الریح ناقض للطهارة الحاصلة فان النواقض کما تنقض الطهارة الکاملة تنقض الطهارة الناقصة ایضاً او نقول أن المتوضی لما غسل الیدین فقد حصل طهارة الیدین وهکذا إلی آخره فلما عرض الناقض أبطل ما سبقه من الطهارة فلذا یجب علیه الإستیناف (٢). فقط

دناروغي له وجي په دوا باندي اوبه بهول کافي دي: **سوال**: (۴۷) دیوه سړي لاسونه او پښي وچاودي نو ده موم ویلي کړل او باندي ویې لګول او لمونځ یې وکی، نو آیا دده اودس او لمونځ کیږي او که نه؟

جواب: دده اودس او لمونځ وسو. (٣) فقط

ددرد په وجه دسترګي څخه اوبه وتل اودس ماتوي: **سوال**: (۴۸) که ددرد له وجهي دسترګو څخه اوبه را وبهیږي نو اودس ماتیږي او که نه؟

جواب: په درمختارکي دي: وإن خرج به أي بوجع نقض الخ (۴) یعني ددرد سره دسترګو څخه

---

(١) ولاینقضة مس ذکر الخ وإمرأة وأمرد الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ج١ ص١٣٦، ط.س. ج١ ص١۴٧). ظفیر

(٢) وسببها الحدث فی الحکمیة وهو وصف شرعي یحل فی الاعحضاء یزیل الطهارة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطهارة ج١ ص٧٩). ظفیر

(٣) فی أعضائه شقاق غسله إن قدر وإلا مسحه وإلا ترکه ولو بیده ولا یقدر علی الماء تیمم (درمختار) ولوکان فی رجله فجعل فیه الدواء یکفیه إمرار الماء فوقه ولا یکفیه المسح (ردالمحتار کتاب الطهارة فروع فرائض وضوء ج١ ص٩٥) په کبیري که څرګنده ده که چیري اوبه رسول نقصاني نه وي نو داوبو بهول کافي نه دي او نه دغه ډول اودس کیږي هو! که داوبو په رسولو کي نقصان وو نو بیا کیږي: و إذا کان برجلیه شقاق فجعل فیه الشحم أو المرهم إن کان لا یضره ایصال الماء لایجوز غسله ووضوئه وإن کان یضر یجوز إذا امر الماء علی ظاهر ذلك (غنیة الستملي ص۴٨). ظفیر

(۴) الدر المختار علی هامش رد المحتار نواقض الوضوء ج١ ص١٣٧، ط.س. ج١ ص١۴٧. ظفیر

اوبه وتل ناقض وضو دي. فقط

داوداسه څخه وروسته په اوبو سره داستنجا دکولو سره اودس راګرځول ښه دي: **سوال**: (۴۹) که تر اوداسه وروسته ور په یاد سي چي لویه او یا کوچنۍ استنجا کول پکاردي، نو داستنجا دکولو سره مخکنی اودس باقي پاته کیدای سي او که نوي اودس ته اړتیا ده؟

جواب: ښه اوبهتره داده چي نوی اودس وکړي تر څو داختلاف څخه ووزي. ([1]) فقط

دبلغم په وتلو باندي اودش نه ماتيږي: **سوال**: (۵۰) یو سړی له ډیره وخته راهیسي دسرفه په ناروغي اخته دی نو دبلغم په وتلو چي هیڅ وینه ورسره نه وي دهغه اودس ماتيږي او که نه؟

جواب: دنوموړو بلغمو په وتلو سره اودس نه ماتبږي لکه څنګه چي دفقهي په کتابونو کي تصریح ورباندي سوي ده. ([2]) فقط

دجنابت دغسل په اوداسه سره لمونځ کول روا دي: **سوال**: (۵۱) دجنابت دغسل سره چي کم اودس کیږی په هغه سره لمونځ کول روا دي او که نه دي؟

جواب: روا دي ([3]). فقط.

که داوداسه په اوږدو کي بې اودسي پیښه سي له سره دي بیا اودس وکړي: **سوال**: (۵۲) چا چي اودس تر نیمایي او یا دریمي برخي پوري کړي وي او یا یوازي دپښو مینځل ورته پاته وي، ده ته بې اودسي پیښه سي نو دی به دلویه سره اودس کوي اوکه به فقط پاته اندامونه مینځي؟

جواب: دنوي سره اودس کول لازم دي، لأن الطهارة فرض بعد الحدث إذا قام إلى الصلوة كما قال الله تعالى: يا أيها الذين آمنوا إذا قمتم إلى الصلوة فاغسلوا، الاية، اى وأنتم محدثون. ([4]) فقط

په شک سره اودس نه ماتيږي: **سوال**: (۵۳) یوه سړي ته دأوداسه څخه وروسته شك پیدا کیږي چي باد ووتی اوکه نه؟ او کله هغه ته دباد وتلو احساس نه کیږي نو هغه ته څه کول په کاردي، آیا په دې سره اودس ماتيږي؟

([1]) لاينقضه مس ذكر لكن يغسل يده ندبا وإمرأة وأمرد لكن يندب للخروج من الخلاف لاسيماً للإمام الخ (الدر المختار على هامش رد المحتار نواقض الوضوء مطلب فی ندب مراعاة الخلاف ج۱ ص۱۳۲، ط.س. ج۱ ص۱۴۷). ظفير

([2]) لا ينقضه قيء من بلغم المعتمد اصلا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۲۸، ط.س. ج۱ ص۱۳۸). ظفير

([3]) عن عائشة رضي الله عنها قالت كان النبی ﷺ لا يتوضا بعد الغسل. رواه الترمذي (مشكوة باب الغسل ص۴۸) لا يتوضأ بعد الغسل اى اكتفاءاً بوضوئه الأول فی الغسل وهو سنة (مرقات ج۱ ص۳۳۸). ظفير

([4]) إذا قمتم إلى الصلوة الخ وتقديره وأنتم محدثون كذا عن إبن عباس الخ (غنية المستملی ص۱۴). ظفير

جواب: په شك سره أودس نه ماتيږي. ([1]) فقط

په چارزانو بيده کيدلو سره اودس نه ماتيږي: **سوال**: (**۵۴**) په چارزانو بيده کيدلو سره اودس نه ماتيږي او که نه؟

جواب: نه ماتيږي. ([2]) فقط

په چيلم څکولو سره اودس نه ماتيږي: **سوال**: (**۵۵**) دچيلم په څکولو سره اودس ماتيږي او که نه؟

جواب: په چيلم څکولو سره اودس نه ماتيږي. فقط

په ستر لوڅيدلو سره اودس نه ماتيږي: **سوال**: (**۵۶**) دستر په لوڅيدلو سره اودس ماتيږي او که نه؟

جواب: نه ماتيږي. ([3]) فقط

دستړګو داوبو حکم: **سوال**: (**۵۷**) دبهشتي زيور په لومړی برخه، داوداسه دماتوونکو په لمن کي ليکلي دي چي که چيري سترګي خوږ وي نو دهغو څخه داوبو په بهيدلو سره اودس ماتيږي، اوکه سترګي خوږ نه وي بلکه يو شی پکښي لغړيدی نو داوښکو په تويېدلو سره اودس نه ماتيږي، او مخکي دقاعدي په ډول ذکر سوي چي دکم سي په وتلو سره اودس ماتيږي هغه نجس وي، نوپه داسي صورت کي چي کله دماشومانو سترګي خوږيږي او دهغوی دسترګو اوښکي دمور کالي او نور لانده کړي نو بيا له وينځلو پرته دهغو سره لمونځ کيږي او که نه؟

جواب: په دي مسئله کي يو قول همدغه دي چي په بهشتي زيور کي نقل دي، او نوموړي قاعده هم صحيح ده او دوهم قول دادي چي دسترګي خوږيدونکي سترګو څخه وتونکي اوبه اودس نه ماتوي، اوپه دي صورت کي به هغه نجسی هم نه وي دنوموړي قاعدي په مطابق په شامي کي دمنيي څخه نقل سوی دی: وعن محمد إذا كان فى عينيه رمد او تسيل الدموع منها أمره بالوضوء لوقت كل صلوة لأني أخاف أن يكون ما يسيل منها صديدا فيكون صاحب العذر آھ قال فى الفتح وهذا التعليل يقتضي أنه أمر إستحبابي فإن الشک والإحتمال لايوجب الحكم بالنقض إذا اليقين لا يزول بالشک الخ شامي. ([4]) نوددي تحقيق پربنا باندي هغه اوبه کمي چي دخوږسترګي څخه وزي

([1]) وشك بالحدث او بالعكس اخذ باليقين (الدر المختار على هامش ردالمحتار نواقص الوضوء ج۱ ص۱۴۰، ط.س. ج۱ ص۱۵۰) ومن شك فى الحدث فهو على وضوئه (عالمگيري كشوري ج۱ ص۱۱، ط. ماجدية ج۱ ص۱۲). ظفير

([2]) وإن نام متربعا لا ينقض الوضوء وكذا لو نام متوركا بأن يبسط قدميه من جانب ويلصق إليتيه بالارض كذا فى الخلاصة (عالمگيري كشوري نواقض الوضوء ج۱ ص۱۱، ط. ماجدية ج۱ ص۱۲). ظفير

([3]) دستر لوڅيدل داوداسه په ماتوونکو کي داخل نه دي، ځکه چي ستر پټول داوداسه دپاره شرط نه دي. ظفير=

تر څو چي تغير نه وي پکښي راغلی لکه سوروالی او يانور بلکه صفا ستره وي نو هغه اودس هم نه ماتوي، او نجسي هم نه دي. فقط

په ستوني سنخ پريوتلو سره اودس ماتيږي اوکه نه؟ **سوال:** (۵۸) آيا په ستوني سنخ پريوتلو سره اودس ماتيږي اوکه نه؟

جواب: اودس نه ماتيږي. (۱) فقط

په لڅه باندي په غسل کولو سره اودس نه ماتيږي: **سوال:** (۵۹) بعض خلګ وايي که چيري يو څوك په پټه غسل خانه کی په لڅه غسل کوی نو دغسل اودس يی باقی پاته کيږی اوکه په ښکاره غسل خانه کی په لڅه غسل وکړی نو بيايي اودس نه پاته کيږی نو دا خبره صحيح ده اوکه نه؟

جواب: اودس يی په دواړه صورتونو کی باقی پاته کيږی. فقط

که دنابالغي سره لواطت وسی او انزال ونه سی نو اودس ماتيږی اوکه نه؟ **سوال:** (۲۰) دعلم الفقه په اول جلد صفحه ۸۸ مصنفه مولانا عبد الشکور لکهنوی کی دی که چيري څوك دنابالغي سره ناروا عمل يعنی لواطت وکړی اومنی دده څخه خارج نه سی نوپه دی سره اودس نه ماتيږی خوپه دی شرط چی دا نابالغه دومره صغيره نه وی چی ددخول په وخت کی دهغې مشترکه حصه اوخاصه حصه په يوه صورت ونه ګرځی، دغه مسئله صحيح ده اوکه نه ؟

جواب: ذکر سوی مسئله همدغسي ده لکه څنګه چی دعلم الفقه څخه نقل سويده، کما فی الدرالمختار ولا عند وطی بهيمة او ميتة او صغيرة غير مشتهاة بان تصير مغضاة بالوطی وان غابت الحشفة ولا ينتقض الوضوء فلا يلزم الا غسل الذکر الخ (۲). فقط

دحضور اکرم ﷺ فضلات او داودسه نواقض: **سوال:** (۲۱) زيد وايي چی دحضور اکرم ﷺ فضلات يعنی بول او براز او ريم او وينه پاك وه او دهغوی په حق کی نه ماتونکی وه اومينځل يې هم نه وه لازم، خو عمر ددی مخالف دی.

جواب: په شامی کی منقول دی: صحح بعض ائمة الشافعية طهارة بوله ﷺ وسائـر فضلاته وبه قال

---

(۴) رد المحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۷، ط.س. ج۱ ص۱۴۸. ظفير

(۱) وان لايزيل مسکته لاينقض وإن تعمده فی الصلوة او غيرها الخ او متورکا الخ بأن يبسط قدميه من جانب ويلصق اليتيه بالأرض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۱، ط.س. ج۱ ص۱۴۱) وإن نام متربعا لاينقض الوضوء وکذا لو نام متورکا بأن بسط قدميه من جانب ويلصق اليتيه بالأرض کذا فی الخلاصة (عالمګيري کشوري نواقض الوضوء ج۱ ص۱۱، ط. ماجدية ج۱ ص۱۳). ظفير

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۵۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۲۲. ظفير

ابو حنیفه رحمه الله کما نقله فی مواهب اللدنیة عن شرح البخاری للعینی ([1]) الخ، وایضا فیه من نواقض الوضوء عن القهستانی لا نقض من الانبیاء علیهم الصلاة والسلام ومقتضاه التعمیم فی کل النواقض لکن نقل ط عن شرح الشفاء لملا علی قاری الاجماع علی انه صلّی الله علیه وسلّم فی نواقض الوضوء کالامة الاّ ما صح من استناء النوم الخ ([2])، ددی روایتونو څخه معلومیږی چی دبول اوبراز په باره کی راجح قول دطهارت دی او داودس دماتوونکو او دغسل په واجبوونکو کی دحضور اکرم ﷺ مثال دامت په څیر دی اوپر دی اجماع هم ده مګر نه خوب چی په دی سره دهغوی ﷺ اودس نه ماتیدی او داحکم دټولو پیغمبرانو علیهم الصلاة والسلام لپاره هم ؤ چی په خوب سره دپیغمبرانو علیهم الصلاة والسلام اودس نه ماتیږی، کذا فی الدر المختار ([3]). فقط

داوداسه په وخت کی که چیری هوا په زوره سره بنده کړی اودس یی وسو: **سوال**: (۲۲) که چیري یو څوك اودس کوی او یا لمونځ ادا کوی اوهوا ورڅخه په وتلو سی اودی یی بنده کړی نو اودس یی باقی پاته دی اولمونځ یی وسو اوکه نه ؟

جواب: که چیري هوا یی بنده کړه او وتلو ته یی پری نه ښودله نو اودس یی باقی دی ([4]) او لمونځ یی صحیح دی ([5]) درمختار. فقط

دمراقبی په حالت په چارزانو خوب اودس نه ماتیږی: **سوال**: (۲۳) دمراقبی په حالت کی یا دوِرد او اورادو په حالت کی چی څوك مستغرق سی اوخوب پرغالب سی اوڅه سی ته یی تکیه هم نه وی وهلی نو په دی صورت کی دنوی اودس کولو ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دنوی اودس کولو ضرورت نسته. ([6]) فقط

([1]) ردالمحتار باب الانجاس مطلب في طهارة بوله صلّی الله علیه وسلّم ج۱ ص۲۹۳، ط.س. ج۱ ص۳۱۸. ظفیر

([2]) ردالمحتار نواقض الوضوء طلب نوم الانبیاء غیر ناقض ج۱ ص۱۳۳، ط.س. ج۱ ص۱٤۳. ظفیر

([3]) والعة لا ینقض کنوم الانبیآء علیهم الصلاة والسلام (الدر المختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء مطلب نوم الانبیاء غیر ناقض ص۱۳۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱٤۳). ظفیر

([4]) ځکه چي دباد وتل اودس ماتوي: وخروج الریح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۲۲، ط.س. ج۱ ص۱۳۲). ظفیر

([5]) وکذا یکره الخ وعند مدافعة الأخبثین أو أحدهما الریح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلوة ج۱ ص۱۵۱، ط.س. ج۱ ص۱۷۸). ظفیر

([6]) ولو نام قاعدا یتمایل فسقط فلا نقض به یفتی کناعس یفهم اکثر ماقیل عنده والعته لاینقض کنوم الانبیاء (درمختار) قوله کناعس ای إذا کان غیر متمکن الخ وفی الخانیه النعاس لا ینقض الوضوء (رد المحتار نواقض الوضوء مطلب نوم الأنبیاء غیر ناقض ج۱ ص۱۳۲، ط.س. ج۱ ص۱٤۳) وإن نام متربعا لاینقض الوضوء (عالمگیري مصري نواقض وضوء ج۱ ص۱۲، ط. ماجدیة ج۱ ص۱۲). ظفیر

عورت غلیظه ته په لاس وروړلو سره اودس نه ماتیږي: سوال: (۲۴) عورت غلیظه ته په لاس وروړلوسره دنوی اودس ضرورت سته اوکه نه په هماغه اودس باندی لمونځ صحیح دی؟

جواب: په دی صورت کی دنوی اودس ضرورت نسته اوپه هماغه اودس لمونځ کول صحیح دی ([1]) فقط

دهوا په وتلو سره پاکوالي ضروري نه دی، ددی وجه: سوال: (۲۵) دهوا په وتلو سره اودس ماتیږی لیکن دهغه ځای دپرېوللو څخه پرته دوباره اودس روا دی نو ددی څه وجه ده ؟

جواب: دهوا په وتلو سره داستنجاء او دپاکوالی ضرورت ددی وجه نسته چی په دی صورت کی بدن په پلیتی سره نه ککړیږی دهوا وتل یوازي حکمی نجاست دی او دیته (حدثِ اصغر) وایی په دي کی یوازي اودس کافی دی. ([2]) فقط

داوداسه په دوران کی اندامونه وچول څنګه دی؟ سوال: (۲۶\۱) کم څوك چی دعذر څخه بغیر یا دفالج دمرض دوجه خپل هراندام او غړی دمینځلو څخه وروسته او داودس دپوره کیدو څخه مخکی په یوه کپړه باندی وچوی او داوس دپوره کیدلو څخه مخکی دده بعض اعضاء وچیږی آیا دداسی کس اودس پوره دی اوکه ناقص؟ اوداسی کول روا دی اوکه نه؟ اوپه داسی اودس لمونځ کیږی او که نه ؟

داوداسه داعضاؤ که یوه برخه وچه پاته سی نو اودس سویدی اوکه نه؟ سوال: (۲۷\۲) داوداسه په دوران کی که دیوه اندام یوه برخه وچه پاته سی اوهغې ته اوبه ونه رسیږی نواودس صحیح دی اوکه نه؟ اوکه ترمینځلو اولوندولو وروسته په خپله وچ سی نو آیا دی ته دوباره اوبه رسول ضروری دی اوکه نه ؟

جواب: ۱: دعذر دوجه څخه داسی کول بغیر دکراهت څخه جائز دی او اودس یی پوره دی اوپه دی اودس لمونځ کول صحیح دی، اوبغیر دعذر څخه داسی کول خامخا دسنتو خلاف دی خوپه داسی اودس باندی لمونځ کول صحیح دی ([3]) کذا فی الدر المختار.

([1]) لاینقضه مس ذکر لکن یغسل یده ندبا (الدرالمختار علی هامش رد المحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۲، ط.س. ج۱ ص۱۴۷). ظفیر

([2]) وقیل سببها الحدث الحکمیة وهو وصف شرعي یحل فی الأعضاء یزیل الطهارة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطهارة ج۱ ص۷۹، ط.س. ج۱ ص۸۵) وینقضه خروج نجس الخ وخروج غیر نجس مثل ریح (درمختار) قوله مثل ریح فانها تنقض لأنها منبعثة عن محل النجاسة لا لأن عینها نجسة لأن الصحیح أن عینها طاهرة حتی لو لبس سراویل مبتلة او إبتل من الیتیه الموضع الذي تمر به الریح فخرج الریح لایتنجس الخ (رد المحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۲۲، ط.س. ج۱ ص۱۳۴) معلومه سوه چي په خپله ریح نجس نه دي چي دده په وجه دطهارت اړتیا پیښنه سي. ظفیر

([3]) والولاء غسل المتأخر او مسحه قبل جفاف الأول بلاعذر حتی لو فنی ماءه فمضی لطلبه لابأس به (الدر =

۲: په دی صورت کی اودس صحیح نه دی اودا ضروری ده چی دکم اندام کمی حصی ته اوبه ونه رسیږی او وچ پاته سوی وی چی پر هغه اوبه تیري کړی نو بیا اودس صحیح کیږی (۱) اوکمه برخه اویا کم اندام چی دمینځلو څخه وروسته وچ سی نو په دی سره په اودس کی هیڅ خلل نه راځی او اودس صحیح دی. (۲) فقط

دهغی هوا په وتلو سره چی دهغی سره اواز او بدبویی نه وی اودس ماتیری اوکه نه؟ سوال:
(۲۸) هغه هوا چی اواز او بد بویی یې نه وی اودس ماتوی اوکه نه؟ که داسی صورت په هررکعت کی مخ ته راځی نوڅه کول په کاردی؟ او دداسی عذر لرونکی امامت کول جائز دی اونه؟

جواب: که یې چیري دهوا دوتلو یقین وی برابره خبره ده که دهغه سره اواز وی اوکه نه او داسړی معذور نه وی نو اودس دوباره کول په کاردی اوکه یوازي شك یی وی نو اودس یی نه دی مات سوی اولمونځ یی صحیح دی (۳). فقط

په قهقهه سره دجنازی دلمانځه دماتیدلو او داوداسه دنه ماتیدلو وجه څه ده؟ سوال: (۲۹) که چیري یو اودس لرونکی شخص دلمانځه څخه خارج په قهقهه سره وخاندی نو اودس یی نه ماتیږی اوکه په لمانځه کی په قهقهه سره وخاندی نواودس یی ماتیږی اوکه دجنازی په لمانځه کی په قهقهه سره وخاندی نولمونځ یی ماتیږی اودس یی نه ماتیږی ددی څه وجه ده؟ اوپه دی کي څه حکمت دی؟

جواب: عقل اوقیاس دادی چی په قهقهه سره بالکل اودس مات نه سی مگر درسول الله ﷺ څخه ثابت دی چی هغوی ﷺ یو چاته دقهقهی دوجه ددوباره اودس او دلمونځ حکم فرمایلی دی نودهمدی وجه څخه پر مسلمان باندی ددی حکم منل ضرور دی، اګر چی زما په نیمګړی فهم کی ددی حکمت رانغی مگر څرنګه چی داحکم دظاهری قیاس خلاف دی نو دهمدی وجه څخه چی پرکمه موقع باندی وارد سوی دی باید هم هلته پاته سی

= المختار علی هامش رد المحتار سنن الوضوء ص۱۱۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۲۲). ظفیر

(۱) إن بقی من موضع الوضوء قدر رأس ابره او لزق بأصل ظفره طین یابس او رطب لم یجز (عالمگیري مصري ص۴ ج۱، ط. ماجدیة ج۱ ص۴). ظفیر

(۲) ومنها الموالاة وهی التتابع وحده ان لایجف الماء علی العضو قبل أن یغسل مابعده فی زمان معتدل ولا إعتبار بشدة الحر والریاح ولاشدة البرد ویعتبر ایضا استواء حالة المتوضي كذا فی الجوهرة النیرة (عالمگیري فصل ثاني سنن وضوء ج۱ ص۸، ط. ماجدیة ج۱ ص۸). ظفیر

(۳) وینقضه خروج نجس الخ وخروج غیر نجس مثل ریح الخ من دبر الخ ولو خرج ریح من الدبر وهو یعلم انه لم كن من الاعلی فهو اختلاج فلا ینقض (الدر المختار علی هامش رد المحتار نواقض الوضوء ص۱۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۳۴). ظفیر

اوپه نورو ځایونو کی داودس دماتیدلو حکم ونه سی اګر چی په هغه ځایونو کی قهقهه ډیره قبیحه وی لکه دجنازی په لمانځه کی قهقهه کول، داصولو قاعده داده چی کم حکم قیاسي نه وی نوهغه باید دخپل موقع څخه متجاوز نه سی ([1]). فقط

وینه چی ونه بهیږی نو اودس نه ماتیږی: سوال: (۷۰) که سپونی وی، اوکه ناسور یا بل ډول ټپ او زخم وي، هرهغه شی چی ددی څخه خارج سی نو دهغه دوه حالته دی یا دا چی په زور ورکولو سره را ووزی اویا دا چی په خپله راووزی په هرو دواړو حالتونوکی که دبهیدلو قدرت نه وی نو اودس ماتوی اوکه نه؟ اوخاص ددی شی ډیر وضاحت غواړو چی کله دسیلان او دبهیدلو قدرت نه وی اوځای نه پریږدی لکه دسپونی بعض قسمونه چی پرهغه سربیره لوندوالی وی اویا کله کله راووزی اوهم هلته پاته سی که دا لوندوالی پخپله راووزی نو اودس ماتوی اوکه نه؟ اوکه دیوی کپړی یا دلاس سره ولګیږی نو اودس په ماتیږی اوکه نه؟ او دغه لاس اوجامه پلیتیږی اوکه نه ؟

جواب: داودس دماتیدو مدار په سیلان سره دی اګرکه بالقوه هم وی کما قالوا لو مسح الدم کلما خرج ولو ترکه لسال نقض والا لا الخ ([2]) درمختار، اوپه خپله وتلی اوپه زورسره وتلی دوړاه برابردی: والمخرج والخارج سیان الخ ([3]) درمختار، نو چی کله سیلان پیدانه سی نه بالفعل اونه بالقوه نو اودس نه ماتیږی اوهغه رطوبت چی دغیرِ سائل زخم پر مخ پروت وی نجس نه دی: لانه ما لیس بحدث لیس بنجس ([4]) کما صرح به الفقهاء، یعنی هغه رطوبت او لوندوالی چی په هغه سره اودس نه ماتیږی ناپاکه نه دی نو دزخم پرسر په کپړه لګیدو سره چی کم لوندوالی دکپړی سره ولګیږی نو په هغه سره کپړه یا جامه نه پلیتیږی. فقط

که داوداسه یقین یې وی نو دشبهی دوجه څخه اودس کول ضروری نه دی: سوال: (۷۱) دیوچا اودس سته خو لوبو کولو ته ولاړی، او دلوبی څخه وروسته ورته ښه معلومه نه ده اویاد یی نه دی چی آیا زما اودس سته اوکه نه؟ آیا ده ته دویم اودس کول په کار دی؟

جواب: که چیري په ښه ډول ورتــه یاد وی چی اودس می سته نو دنــوی اودس کولو هیڅ

([1]) المعاني الناقضة للوضوء الخ القهقهة فی صلوة ذات رکوع وسجود والقیاس أنها لاتنقض الخ وبمثله ترك القیاس والأثر ورد فی صلوة مطلقة فیقتصر علیها (هدایه فصل فی نواقض الوضوء ج۱ ص۳۵ – ۳۲) فلا یتعدی إلی صلوة الجنازة وسجدة التلاوة وصلوة الصبی الخ (حاشیة هدایه ج۱ ص۳۲) هدایه هم دهندوستان مختلفو مطابعو چاپ کړي ده خاکسار دصفحو حواله دمطبعه یوسفي چاپ ته ورکړیده. ظفیر

([2])الدرالمختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ص۱۲۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۳۵. ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ص۱۲۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۴۲. ظفیر

([4]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ص۱۳۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۴۰. ظفیر

ضرورت ورته نسته اوکه ویی کړی نوډیره ښه ده او زیات ثواب لری (۱).

کلکه وینه دپوزې څخه راتلل اودس نه ماتوي: **سوال**: (۷۲) اکثره په زکام یا بلغموکی دپوزی په فضله موادو کی دوینی ریښه راځی نو دغه کلکه وینه اودس ماتوی اوکه نه؟

جواب: کلکه وینه چی دپوزی وغیره څخه راسی نو اودس نه ماتوی. (۲) فقط

دجنازې په اوداسه سره دوخت لمونځ ادا کیدی سی: **سوال**: (۷۳) حنفی که چیري دجنازی دپاره اودس وکړی نوپه دی سره وختی یا قضا سوی لمونځ ادا کولی سی اوکه نه؟

جواب: هغه اودس چی دجنازی لپاره سوی وی په هغه سره وختی او قضاء سوی لمونځ ادا کول صحیح دی (۳).

په لڅه باندې دغسل کولو څخه وروسته په هماغه اودس لمونځ ادا کیدی سی: **سوال**: (۷۴) که چیري یو څوك اودس وکړی اوپه لڅه غسل وکړی په غسل خانه یا په انګړ کی نوپه دغه اودس دغسل باندی لمونځ ادا کولی سی اوکه نه؟

جواب: که چیري په لڅه یی غسل کړی وي نوپه دی سره لمونځ ادا کولی سی (۴) دعورت پټول هغه وخت فرض دی چی کله دخلګو په مخ کی غسل کوی. فقط

دشر مګاه لیدل اودس نه ماتوي: **سوال**: (۷۵) یوه اودس لرونکی شخص دیوه لڅ شخص شرمګاه ولیدله خو دلیدلو سره یی خپل نظر کښته واچوی نو دده اودس مات دی اوکه نه؟ اوهمدارنګه که اودس لرونکی خپله شرمګاه ووینی نودده اودس ماتیږی اوکه نه؟

جواب: په دواړو صورتونوکی دده اودس نه ماتیږی (۵). فقط

الباب الثانی فی الغسل

لومړی فصل : دغسل فرضونه

په غسل کی غړغره فرض ده اوکه نه په خولې اوبه لګول: **سوال**: (۷۶) په غسل کی دخولی

---

(۱) ولو أيقن بالطهارة وشك بالحدث او بالعكس أخذ باليقين ولو تيقنهما وشك فی السابق فهو متطهر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار قبیل أبحاث الغسل ج۱ ص۱۳۹، ط.س. ج۱ ص۱۵۰). ظفیر

(۲) وأما العلق النازل من الرأس فغير ناقض (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب نواقض الوضوء ج۱ ص۱۲۷، ط.س. ج۱ ص۱۳۷) الرجل إذا إستنشر فخرج من أنفه علی قدر العدسة لا ينتقض الوضوء كذا فی الخلاصة (عالمگيري مصري نواقض الوضوء ج۱ ص۱۱، ط. ماجدية ج۱ ص۱۱). ظفير

(۳) ځکه چه اودس باقي دي اوپه يوه اودس سره ډير لمونځونه کول صحيح دي. ظفير

(۴) لڅيدل اودس نه ماتوي. ظفير

(۵) لاينقضه مس ذكر لكن يغسل يده ندبا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۲، ط.س. ج۱ ص۱۴۷) مس ذكره او ذكر غيره ليس بحدث عندنا كذا فی الزاد (عالمگيری كشوري نواقض الوضوء ج۱ ص۱۱، ط. ماجدية ج۱ ص۱۳). ظفير

مینځل او اوبه لغړول فرض دی اوکه غړغړه؟ زید وایی په غسل کی غړغړه فرض ده اوعمر وایی چی په خوله اوبه لغړول فرض دی؟

جواب: په غسل کی دخولی مینځل په دی طریقی فرض دی چی ټولی خولی ته اوبه ورسیږی اوغړغړه کول سنت دی مګر دروژه دار دپاره نه لکه څرنګه چی په درمختار کی دی: وغسل الفم ای استیعابه الخ والمبالغة فیهما بالغرغرة ومجاوز المارن لغیر الصائم لاحتمال الفساد الخ. ([1]) فقط

دخولی ددننه او دباندی حصو حدود څه دی؟ **سوال:** (۷۷) هغه کوچنۍ ژبه (ژبۍ) چی دژبی هاخواته ده هغه په غسل کی دظاهر یعنی (بهرنۍ) برخي حکم لری اوکه ددننه؟ او دخولی دظاهر حکم ترکمه حده دی چی دهغی مینځل فرض دی؟

جواب: په غسل کی دخولی مینځل تر هغه حده فرض دی کم حد چی په اودس کی سنت دی کم ته چی په خوله اوبه لغړول وایی یعنی مضمضه اوخوله پورته کول او غړغړه کول سنت دی فرض نه دی: کما فی الدرالمختار وسننه کسننه ([2]) نو هغه کوچنۍ ژبه (ژبۍ) چي دژبي څخه هاخواته ده دهغې مینځل فرض نه دي، فرض انداز دومر ده چی پرهغی دمضمضی اطلاق کیږی یعنی چی کله داوبه لغړولو دپاره په خوله کی اوبه واچول سی اوسر پورته سی او دغړغړی څخه بغیر ترکم ځای پوری چی اوبه ورسیږی همدغه اندازه فرض ده مقصد داچی مضمضه اوپه پوزه کی اوبه اچول کم چی په اوداسه کی سنت دی په غسل کی فرض دی. ([3]) فقط

هغه غړغړه چی دغسل څخه لره دمخه سوی وی کافی ده اوکه نه؟ **سوال:** (۷۸) دیوچا احتلام وسو هغه غړغړه وکړه او ډوډۍ یې وخوړله نوپه دغه اوله غړغړه دهغه فرض ادا سوی دی اوکه نه؟

جواب: هغه غړ غړه چی دډوډی خوړلو څخه یې مخکی کړی ده کافی کیږی نو که دغسل

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتارسنن الوضوء ج۱ ص۱۰۷ – ۱۰۸، ط.س. ج۱ ص۱۱۵، دغسل دفرائضو په سلسله کي دصاحب درمختار الفاظ دادي: وفرض الغسل الخ غسل کل فمه ویکفي الشرب عبا لأن المج لیس بشرط فی الاصح (درمختار) عبر عن المضمضة والإستنشاق بالغسل لإفادة الإستیعاب او للإختصار کما قدمه فی الوضوء (ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۴۰ – ۱۴۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۱ – ۱۵۲). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۴۴ ج۱. ظفیر

([3]) وفرض الغسل الخ غسل کل فمه الخ وأنفه حتی ما تحت الدثان وباقي بدنه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۴۰، ط.س. ج۱ ص۱۵۱ – ۱۵۲) وحد المضمضة استیعاب الماء جمیع الفم وحد الإستنشاق ان یصل الماء الی المارن کذا فی الخلاصه (عالمګیري کشوري باب الوضوء فصل ثاني ص۵ ج۱، ط. ماجدیة ج۱ ص۷). ظفیر

کولو په وخت کی دوباره غړغړه ونه کړی نوهیڅ حرج نسته او غړغړه په غسل کی فرض نه ده بلکه سنت ده که چیري غړغړه ونه کړی اوخوله داوبو ډکه کړی اومضمضه وکړی نو بیاهم کافی ده. (۱) فقط

په پوزه کی اوبه اچول او خوله مینځل څو ځله فرض دی: **سوال**: (۷۹) په غسل کی دخولې مضمضه کول اوپه پوزه کی اوبه اچول څو ځلی فرض دی؟

جواب: یو یوځل مضمضه او استنشاق فرض دی اوباقی سنت دی (۲). فقط

په غسل کی دټول بدن مینځل فرض دی اوددی څخه بغیر غسل نه کیږی: **سوال**: (۸۰) دکشمیر ښځو خپل رواج مقرر کړی دی چی دجنابت په غسل کی ترنامه لاندی اندام پریمینځی او ترنامه لوړ اندام نه پریمینځی داغسل روا دی اوکه نه؟

جواب: دجنابت په غسل کی دټوله بدن پریمنځل اوټولو اعضاؤ ته اوبه رسول ضروری دی اوددې څخه بغیر غسل روا نه دی (۳). فقط

ښځو ته ضروری دی چی دوریښتانو بیخونو ته اوبه ورسوی: **سوال**: (۸۱) دجنابت په وخت کی ښځه به کم وخت ترخپلی غاړی اومرۍ لاندی ځایونه مینځی؟ اوریدلی مو دی چی دډول اوسنګار دخرابیدو دوجه ښځه یوازې ترمری لاندی برخه پرېوللی سی او بس؟

جواب: مسئله دانه ده بلکه ضروری ده چی دسر څخه اوبه اچول شروع کړی اوپر ټول بدن باندی اوبه وبهوی یوازې دښځی دپاره داحکم دی که چیري هغی خپل وریښتان کوڅی کړی وی نو دهغو خلاصول ضروری نه دی بلکه دوریښتانو بیخونو ته اوبه رسول ورته کافی دی یعنی داسی دې وکړی چی پرسر اوبه واچوی اوهغو ته زور ورکړی چی هغه دویښتانو بیخونو ته ورسیږی. (۴) فقط

په ډنډ او تالاب کی غسل: **سوال**: (۸۲) بعض خلګ په تالاب کی لامبی په کم ځای کی چی ډیر هندوان هم لامبی او دهغوی دبدن او دجامو خاځکی هم ورالوزی نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟

---

(۱) الجنب إذا شرب الماء ولم یمجه لم یضره ویجزیه عن المضمضة إذا صاحب جمیع فمه (عالمگیري کشوري فرائض وضوء ج۱ ص۱۲، ط. ماجدیة ج۱ ص۱۳). ظفیر

(۲) وفرض الغسل الخ غسل کل فمه ویکفي الشرب عبا لأن المج لیس بشرط فی الاصح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۴۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۱ – ۱۵۲) وسننه کسنن الوضوء سوی الترتیب الخ (ایضا ج۱ ص۱۴۴، ط.س. ج۱ ص۱۵۲). ظفیر

(۳) وفرض الغسل المضمضة والإستنشاق وغسل سائر البدن (هدایه فصل فی الغسل ص۳۲ ج۱). ظفیر

(۴) ولیس علی المراة أن تنقض ظفائرها فی الغسل إذا بلغ الماء أصول الشعر (هدایه فصل فی الغسل ج۱ ص۳۷). ظفیر

جواب: په دې صورت کې غسل روا دی او دناپاکۍ وهم په کارنه دی ([1]). فقط

دجنابت دغسل حکمت: **سوال**: (٨٣) یو هندو داعتراض په ډول ماته دا وویل چې مسلمانان په ډېرو سترګو اوبې سوچه عبادت کوي او دتحقیق سره څه علاقه نه لري لکه دمنې په وتلو دانه لازمیږي چې ټول بدن پریمنځل سی بلکه یوازې دتناسل دعضوی په پاکولو سره انسان صفا کیږي، نو دا چې ټول بدن ناپاکیږي دا ولې؟

جواب: دا دباري تعالی حکمتونه دي ([2]) هندو خو لا پریږده چې دیته هر مسلمان نه سی رسیدی نوباید چې سړی په دې اړوند بحث ونه کړي په ژبه خو ددې په متعلق ډېر څه ویل کیدی سی خوپه تحریر او لیك کې ددې دتفصیل راوړلو فرصت نسته (په حاشیه کې دیته اشاره سویده. ظفیر). فقط

که چیري دغسل دپاره مضمضه اواستنشاق مخکې وسی نو دهغه څه حکم دی؟ **سوال**: (٨۴) په غسل کې چې کم درې فرضونه دي چې عبارت دي دخولې پریمنځلو دپوزې پریمنځلو اودټول بدن دپریمنځلو څخه نولومړي دوه فرضونه که داوداسه سره وسي نوکافي دي اوکه نه دوباره کول یې په کاردي ؟

جواب: دغسل څخه مخکې چې کم اودس کیږي په هغه کې مضمضه اواستنشاق اوغرغره کافي ده او په هغه سره فرض ادا کیږي نو دمضمضې او داستنشاق دبیا کولو ضرورت نسته ([3]). فقط

که په غاښ کې یو خچوکې ومښلې نوغسل کیږي اوکه نه؟ **سوال**: (٨۵) دغاښ په سوري کې که چیري دیوشې ټوټه ومښلې نو دایستلو څخه بغیر به غسل صحیح وی اوکه نه ؟

([1]) الیقین لا یزول بالشك (الاشباه والنظائر مطبوعة نولکشور لکهنؤ القاعدة الثالثة). ظفیر

([2]) أما المسئلة الأولی وهی ایجاب الشارع (صلي الله عله وسلم) الغسل من المنی دون البول فهذا من أعظم محاسن الشریعة وما اشتملت علیه الرحمة والحکمة والمصلحة فان المنی یخرج من جمیع البدن ولهذا سماه الله سبحانه سلالة لأنه یسیل من جمیع البدن الخ وایضا فان الأغتسال من خروج المنی من انفع شيء للبدن والقلب والروح بل جمیع الأرواح القائمة بالبدن فانها تقوی بالأغتسال والغسل علیه ما تحلل منه بخروج المنی وهذا امر یعرف بالحس وایضا فان الجنابة توجب ثقلا وکسلاو الغسل یحدث له نشاط وخفة ولهذا قال ابوذر الخ لما اغتسل من الجنابة کانما ألقیت عنی جبلا الخ وقد صرح أفاضل الأطباء بان الإغتسال بعد الجماع یعید للبدن قوته ویخلف علیه ما تحلل عنه وأنه من انفع شيء للبدن والروح وترکه مضر (أعلام الموقعین مطبوعه اشرف الطابع دهلي ص١٧٠ ج١) داسې معلومیږي چې منې چونکه دبدن دټولو حصو څخه راټولیږي او خارجیږي بیا دا چه په لمبلو سره دبدن خارج سوی قوت بیرته راګرځي ځکه نو اسلام دټول بدن مینځل یعني غسل ضروري وبللی. ظفیر الدین

([3]) الجنب إذا شرب الماء ولم یمجه لم یضره یجزیه عن المضمضة إذا أصاب جمیع فمه (عالمګیري کشوري باب ثاني فی الغسل ج١ ص١٢، ط. ماجدیة ج١ ص١٣). ظفیر

جواب: صحیح دی که چیري په اسانی سره وتلی سی نو ایستل یی په کاردی ([1]). فقط

په غسل کی دغاښ دمیخونو حکم: **سوال**: (۸۶\۱) که چیري یو څوك پرخپلو غاښونو دسپینو یا دسرو زرو میخونه وپیچی نو آیا که دغسل کولو په وخت کی هلته اوبه ورونه رسیږی نودده غسل صحیح دی اوکه جنابت باقی پاته دی؟

په غسل کی دسپینو زرو دهغه تارونو حکم چی په غاښ کی وی: **سوال**: (۸۷\۲) په بعضو فتاواو کی لیکل سویدی چی که چیري غاښونه دښوریدلو دبیری دسپینو زرو په تار وتړل سی نوجائز دی، خوپه دی صورة کی که چیري تر تار لاندی حصی ته وبه ونه رسیږی نوغسل صحیح دی اوکه نه ؟

په غسل کی دعارضی غاښ ایستل ضروري دی اوکه نه؟ **سوال**: (۸۸\۳) کمو کسانو چی عارضی غاښ لګولی وی نو آیا دغسل په وخت کی ددی ایستل او لیری کول ضروری دی اوکه دایستلو څخه بغیر یی هم غسل صحیح کیږی ؟

جواب: ۱: که چیري اوبه دننه رسیږی نوغسل یی صحیح دی اوکه اوبه نه رسیږی نو دمنیی دشارح تحقیق دادی چی غسل یی صحیح نه دی نو دهمدی وجه څخه دضرورت څخه بغیر میخونه لګول په کارنه دی: وقیل ان صلبا منع وهو الاصح الخ. درمختار ([2]).

۲: که چیري دغاښونو دښوریدلو دوجه یی دسپینو زرو تار پر تړلی وی نوبیا په دي کی غسل صحیح دی ځکه چی دا ضرورت دی ([3]).

۳: ددی ایستل ضروری نه دی اوغسل صحیح کیږی اوکه وی باسی اوغسل وکړی نودا ډیره داحتیاط خبره ده. فقط

دروژی په حالت کی دجنابت په غسل کی خوله پریمنځل اوکه نه غړغړه کول په کاردی؟

سوال: (۸۹) په روژه کی که دغسل ضرورت سی نو غړغړه به کوی اوکه نه ؟

جواب: غړغړه به نه کوی یوازي مضمضه ډیره ښه طریقه ده ([4]). فقط

([1]) ولو كان سنه مجوفا فبقى فيه او بين أسنانه طعام او درن رطب فى أنفه ثم غسله علي الاصح كذا فى الزاهدي والاحتياط أن يخرج الطعام عن تجويفه ويجري الماء عليه هكذا فى فتح القدير (عالمگيري مصري الباب الثاني فى الغسل ج۱ ص۱۳، ط. ماجدية ج۱ ص۱۳). ظفير

([2]) الدر المختار على هامش رد المحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۲، ط.س. ج۱ ص۱۵۴. ظفير

([3]) والصرام والصباغ ما في ظفرهما يمنع تمام الاغتسال وقيل كل ذلك يجزيهم للحرج والضرورة ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرع كذا فى الظهيرية (عالمگيري الباب الثاني فى الغسل ج۱ ص۱۴۳، ط. ماجدية ج۱ ص۱۳). ظفير

([4]) وغسل الفم اى إستيعابه الخ والمبالغة بالغرغرة ومجاوزة المارن لغير الصائم لإحتمال الفساد (الدر المختار على هامش رد المحتار وسنن الوضوء ص۱۰۷ – ۱۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۱۵). ظفير

که پلیتی پر ټول بدن ولګیږي نو دشرعي غسل ضرورت نسته یوازي پلیتی لیري کول کافي دي: **سوال**: (۹۰) په در مختار کی دی چی دټول بدن دناپاکیدو دوجه غسل واجبیږی نودغه غسل دجنابت دغسل په شان دی اوکه نه؟ یعنی دبدن مښل پکښی شرط دی اوکه نه یوازي هغه ځای ته اوبه رسول فرض دی؟

جواب: داغسل داسی دی لکه چی څوك یو ناپاکه شی یا یوناپاکه اندام مینځی یعنی دری ځلی پرهغه اوبه تیرول په کاردی (۱). فقط

هغه غاښ چی لویدلی وي او بیاپه تار وتړل سی نو په غسل کولو کی په دی کی څه حرج سته اوکه نه؟ **سوال**: (۹۱) دیو چا غاښ وغورځیدی هغه خپل غاښ راپورته کی اوپر همدغه ځای یی دتار یا دبل یو شی په واسطه سره مضبوط کی نو آیا په دی صورت کی دجنابت په غسل کی کم حرج سته اوکه نه؟

جواب: دلویدلی غاښ چی په تار یا بل څه باندی تړل سوی وی په غسل کی ددی دوجه هیڅ څه حرج نسته په غسل کی یوازي مضمضه کول کافی دی دغاښونو بیخونوته اوبه رسول مقصود او ضروری نه دی اوپه هرهغه شی کی چی حرج وی نوهغه شرعًا معاف اوبخښل سویدی. (۲) فقط

آیا دجماع کولو څخه وروسته که څوک متیازی ونه کړی نو نه پاکیږي: **سوال**: (۹۲) اوریدلی مودی چی دصحبت اودجماع کولو څخه وروسته که څوك متیازی ونه کړی نونه پاکیږی ؟

جواب: دا غلط مشهور دی (۳). فقط

دجنابت په غسل کی دښځو دپاره دکوڅیو خلاصول ضروري دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۳) داچی دسړی دپاره دوطی کولو څخه وروسته په غسل کی دټول بدن دوریښتانو دبیخونو لوندول ضروری دی نو دښځی چی وریښتان ډیر اوږده وی اوکوڅی کړی یی هم وی نو ددې وجه څه کول پکار دی؟

---

(۱) والنجاسة ضربتان مرئية وغير مرئة فما كان منها مرئيا فطهارتها بزوال عينها الخ وما ليس بمرئي فطهارته ان يغسل حتى يغلب على ظن الغاسل أنه قد طهر الخ وإنما قدر بالثلث (هدايه باب الانجاس ج۱ ص۷۴). ظفير

(۲) والصرام والصباغ ما في ظفرهما يمنع تمام الاغتسال وقيل كل ذلك يجزيهم للحرج والضرورة ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرع كذا فى الظهيرية (عالمگيري الباب الثاني فى الغسل ج۱ ص۱۲، ط. ماجدية ج۱ ص۱۳). ظفير

(۳) دجماع کولو څخه وروسته غسل کول فرض دي دمتیازو کولو سره یې څه اړه نسته: وفرض الغسل عند خروج منى من العضو الخ وعند ايلاج حشفة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۴۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۲۱). ظفير

جواب: که چیري دښځی دسر ورېښتان کوڅی سوی وی نو ددی خلاصول او دټولو ورېښتانو لوندول په غسل کی ضروری نه دی بلکه دورېښتانو بیخونو ته اوبه رسول کافی اوبس دی اوهغه دارنګه چی پرسر به اوبه راواړوی او ورېښتانو ته به زور ورکړی چی اوبه دورېښتانو بیخونو ته ورسېږی اوکه چیري ورېښتان کوڅی نه وی بلکه خلاص وی نوبیا دټولو ورېښتانو لوندول ضروری دی (۱). فقط

داودس یا دغسل په حالت کی که دخولی په دننه برخه کي دیو شي خچوکی وی او ونه ایستل سی نوغسل یی صحیح دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۴) که چیري دچا په خوله کی دپان ریزه (خچوکی) یا دسپاری ټوټه وی او داوداسه او دغسل په وخت کی ونه ایستل سی نو اودس اوغسل یی صحیح دی اوکه نه؟

جواب: لمونځ په صحیح کېږی (۲)، (اودغه اودس اوغسل صحیح دی، ظفیر). فقط

دغاښې میخ دغسل دپاره مانع نه دی: **سوال**: (۹۵) که چیري په غاښ کی میخونه دلوړ طرف څخه ورکړل سی نوپه هغه سوریو کی چی دمیخ سر ننوتلی وی نو هغه نه وزی اوس ددی دوتلو څخه بغیر غسل صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دمیخ هغه برخه چی دغاښ دننه ده اوهغه ایستل کیدی نه سی نودا دغسل دموانعو څخه نه شمیرل کیږی غسل دمجبوریت دوجه صحیح دی. (۳) فقط

دغسل خاني پر دیوالونو چی کم څاڅکی لګیږی نو هغه خو به په غسل کی څه نقصان نه راولی؟ **سوال**: (۹۶) دغسل کولو په وخت کی چی کم څاڅکی پردیوال ولګیږی نو ددی دوجه څخه په غسل کی نقصان راځی اوکه نه ؟

---

(۱) وکفی بل اصل ضفیرتها ای شعر المرأة المضفور للحرج أما المنقوض فیفرض غسل كله إتفاقا ولو لم یبتل اصلها یجب نقضها مطلقا هو الصحیح ولو ضرها غسل رأسها تركته (درمختار) قوله اتفاقا كذا فی شرح المنیة وفیه نظر لأن فی المسئلة ثلاثة اقوال كما فی البحر والحلیة الأول: الأكتفاء بالوصول إلی الأصول ولو منقوضا وظاهر الذخیرة أنه ظاهر الذهب ویدل علیه ظاهر الاحادیث الواردة فی هذا الباب، الثانی التفصیل الذكور ومشی علیه جماعة منهم صاحب المحیط والبدائع والكافي، الثالث وجوب بل الذوائب مع العصر وصححه وتمام تحقیق هذه الأقوال في الحلیة وما فیها اخر إلی ترجیح القول الثاني وهو ظاهر المتون (ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۴۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۴). ظفیر

(۲) ولو كان سنه مجوفا فبقی فیه اوبین أسنانه طعام اودرن رطب فی انفه ثم غسله علی الاصح كذا فی الزاهدي والاحتیاط ان یخرج الطعام عن تجویفه ویجري الماء علیه هكذا فی فتح القدیر (عالمگیري كشوري فرائض وضوء ج۱ ص۱۲، ط. ماجدیة ج۱ ص۱۳). ظفیر

(۳) والصرام والصباغ ما في ظفرهما یمنع تمام الأغتسال وقیل كل ذلك یجزیهم للحرج والضرورة ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرع كذا فی الظهیریة (عالمگیري الباب الثاني فی الغسل ج۱ ص۱۳، ط. ماجدیة ج۱ ص۱۳). ظفیر

جواب: غسل سوی دی هیڅ خرابی نه پکښی راځی ([1]) ناحقه شك او وهم بایدونه سی. فقط

دوهم فصل : دغسل سنتونه

دغسل طریقه څه ده؟ سوال: (۹۷\۱) که مو‌ږ دغسل دهغه طریقی څخه چی دشریعت موافقه وی خبر کړی نوډیره مهربانی او مننه به مو وی!

دجنابت دوجه غسل ولی ضروری دی؟ سوال: (۹۸\۲) بنی آدم حلال دی اوکه حرام؟ که چیري حلال وی نودده دپاکولو هیڅ ضرورت نسته ځکه چی پخپله پاك دی، اوکه حرام وی نوبیا دحرام لمونځ ولی جائز دی؟

جواب: ۱: دجنابت وغیره دغسل طریقه داده چی اول خپل لاسونه ومینځی اوکه پربدن یی نجاست وی هغه دی هم لیری کړی اوبیا دی پوره اودس وکړی اوبیا دی پر ټول بدن دری واره اوبه واچوی اوهغه په دی طریقه چی اول دی پر رسته اوږی اوبیا پرچپه اوږه اوبیا دی پرسر دري واری اوبه واچوی، اوشارح فرمایلي دی چی اول دی پرسر دري واره اوبه واچوی اوبیا دی پرنور بدن باندی دری واری واچوی مقصد دا چی پرټول بدن دی دری واری اوبه تیری کړی ددی لپاره چی غسل یی په سنت طریقه ادا سی ([2]). فقط

۲: بنی آدم دجنابت وغیره دوجه ناپاك ګرځی اودغسل په کولو پاکیږی، نوغسل به ددې وجه کوی چی پاك سی اولمونځ یی صحیح سی ([3]) فقط والله تعالیٰ اعلم.

دجنابت په غسل کی دبسم الله ویل صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۹۹) دجنابت یا احتلام دغسل دشروع کولو په وخت کی دبسم الله وغیره ویل صحیح دی اوکه نه؟

([1]) فقهاؤ لیکلي دي: المشقة تجلب التیسیر، بیا یې لیکلي دي: واعلم أن اسباب التخفیف فی العبادات وغیرها سبعة. په دي کي شپږم سبب عسر او عموم بلوي شمار کړي دي، او ددي قسم څخه یی یو هغه امر چي زموږ ورسره تعلق دی یعني دغسل خاني دیوال هم لیکلی دي: وکذا الحمام إذا اهریق فیه النجاسات فعرق حیطانها وکوتها وتقاطر منه (الاشباه والنظائر ص۹۸). ظفیر مفتاحي

([2]) وسنة الغسل ان یقدم الوضوء علیه کوضوء الصلوة الخ وأن یزیل النجاسة الحقیقیة کالمني ونحوه عن بدنه إن کانت الخ ثم یصیب الماء علی رأسه وسائر جسده ثلاثا کما في الصحیحین عن حدیث ابن عباس قال قالت میمونة رضي الله عنها وضعت للنبی ﷺ غسلا فسترته بثوب فصب علی یدیه فغسلهما ثم ادخل یمینه فی الإناء فافرغ بها علی فرجه ثم غسله بشماله ثم ضرب بشماله الأرض فدلکها دلکا شدیدا ثم غسلها فمضمض واستنشق وغسل وجهه وذراعیه ثم افرغ علی رأسه ثلاث حثیات ملاء کفیه ثم غسل سائر جسده ثم تنحی فغسل قدمیه فناولته ثوباً فلم یأخذه فانطلق وهو ینفض یدیه، ثم کیفیة الصب قال شمس الأئمة الحلواني یفیض علی منکبه الأیمن ثلاثا ثم الأیسر الخ قیل یبدأ بالرأس ثم بالأیمن ثم بالأیسر وهو ظاهر المتن والهدایة وغیرها وظاهر الحدیث (غنیة المستملي بحث غسل ص۴۸ – ۴۹). ظفیر

([3]) والمعاني الموجبة للغسل إنزال المنی علی وجه الدفق والشهوة من الرجل والمرأة حالة النوم والیقظة الخ وإلتقاء الختانین من غیر انزال الخ والحیض وکذا النفاس الخ (هدایه فصل في الغسل ج۱ ص۳۷). ظفیر

جواب: دهر غسل په شروع کی بسم الله لوستل سنت دی باید بسم الله وویل سی ([۱]). فقط

که په غسل کی نیت هیر سی نوغسل صحیح کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۰) عمر ته دغسل حاجت دی اوهغه ټول شرطونه ادا کړل مگر دغسل نیت ورڅخه هیر ؤ خو دجامو اغوستلو څخه وروسته ور په یاد سو خووی ویل چی زما غسل سوی دی، نو آیا دعمر خبره صحیح ده اوکه نه ؟

جواب: دعمر خبره صحیح ده په دی صورت کی دده غسل سویدی ځکه چی په اودس اوغسل کی زموږ په نزد نیت فرض نه دی بلکه سنت دی اودسنتو په ترک اوپاته کیدو دشی په صحت کی کمه شبهه نه راځی کذا فی کتب الفقه ([۲]). فقط

په اودس اوغسل کی داوبو اندازه اومقدار څومره دی؟ **سوال**: (۱۰۱) داودس اودغسل دپاره داوبو اندازه څومره ده ؟

جواب: په حدیث پاك کی راغلی دی چی نبی کریم ﷺ به دیوه صاع څخه ترپاو باندی یوه صاع اوبو باندی غسل کوی اوپه یوه مُد سره به یی اودس فرمایی یعنی ترټولو کمه اندازه چی دغسل او داودس لپاره کفایت کوی داده ([۳])، اوشامی دحلیه څخه نقل کړی دی چی په دی کی کم شرعی حد نه دی ټاکل سوی چی په څومره اوبو اودس اوغسل کیږی هم هغه صحیح دی مگر اسراف او زیاتوالی به نه کوی ([۴]). فقط

دریم فصل : دغسل مستحبات او آداب

په چاردیوالی کی په لڅ بدن غسل کول څنګه دی؟ **سوال**: (۱۰۲) کله چی دیوی غسل خانی

([۱]) وسننه كسنن الوضوء سوي الترتيب وادابه كادابه (درمختار) قوله كسنن الوضوء اي من البداءة بالنية والتسمية والسواك والتخليل والدلك والولاء (ردالمحتار مطلب سنن الغسل ص۱۴۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۲). ظفير

([۲]) وسننه أى الغسل كسنن الوضوء وسوى الترتيب الخ (درمختار) كسنن الوضوء اي من البداءة بالنية والتسمية (ردالمحتار ابحاث الغسل مطلب سنن الغسل ص۱۴۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۲). ظفير

([۳]) عن أنس ﷺ كان النبى ﷺ يتوضأ بالمد ويغتسل بالصاع إلى خمس امداد، متفق عليه (مشكوة المصابيح باب الغسل ص۴۸). ظفير

([۴]) ثم يفيض الماء على كل بدنه ثلاثا مستوعبا من الماء المعهود في الشرع للوضوء والغسل وهو ثمانية أرطال وقيل المقصود عدم الإسراف وفي الجواهر لا إسراف في الماء الجاري لأنه غير مضيع)درمختار(قوله: وقيل المقصود إلخ الأصوب حذف قيل لما في الحلية أنه نقل غير واحد إجماع المسلمين على أن ما يجزئ في الوضوء والغسل غير مقدر بمقدار وما في ظاهر الرواية من أن أدنى ما يكفي الغسل صاع وفي الوضوء مد للحديث المتفق عليه {كان صلى الله عليه وسلم يتوضأ بالمد ويغتسل بالصاع إلى خمسة أمداد} ليس بتقدير لازم بل هو بيان أدنى القدر المسنون اهـ قال في البحر: حتى إن من أسبغ بدون ذلك أجزأه وإن لم يكفه زاد عليه لأن طباع الناس وأحوالهم مختلفة كذا في البدائع (ردالمحتار مطلب سنن الغسل ج۱ ص۱۴۷، ط.س. ج۱ ص۱۵۸). ظفير

دیوالونه لوی لوی وی خوچت یی پټ نه وی نوپه دی کی غسل کیږی اوکه نه ؟

جواب: کله چی دغسل خانی دیوالونه غټ وی اوهیڅ بی پردګی نه پکښي راځی نوپه دی کی په لڅه غسل صحیح دی اګر چی چت یی نه وی پټ سوی مګر بهتره داده چی په لڅه غسل ونه سی ([1]) الا بضروة.

<u>دغسل څاڅکی که په منګی کی ولویږی نو داوبو یی څه حکم دی؟</u> سوال: (۱۰۳) دپلیت ځای دپاکولو او داودس څخه وروسته چی دغسل کولو په وخت کی کم څاڅکی دمنګی په اوبوکی ولویږی نوپه دی سره اوبه پلیتیږی اوکه نه؟

جواب: په دی کی احتیاط پکاردی ، خوپه ډیرو لږو څاڅکو سره هغه اوبه نه پلیتیږی. ([2]) فقط

<u>په میدان، دریاب (سیند) اوپه تالاب کی په لڅه لمبیدل صحیح دی اوکه نه</u>؟ سوال: (۱۰۴) په میدان کی یاپه واله او تالاب کی په لڅه غسل کول صحیح دی اوکه نه په لنګ وهلو سره؟ اولنګ به دزنګونونو څخه پورته وی اوکه کښته؟ او دورنونو په لیدلو سره په غسل کی څه فرق راځی اوکه نه؟ اودغسل په اوداسه سره لمونځ کول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: په یوازي ځای کی په لڅه غسل کول هم صحیح دی ([3]) اوپه کم ځای کی چی خلګ وی نوپه هغه ځای کی باید دزنګونونو څخه لاندی لنګ وتړی اوغسل وکړی ([4]) او دورنونو وغیره په لیدلو سره په غسل کی کم فرق نه ([5]) راځی او دغسل په اوداسه باندی لمونځ صحیح دی. فقط

([1]) وان يغتسل في موضع لا يراه احد لاحتمال بدو العورة حال الاغتسال الخ ان النبى صلّى الله عليه وسلّم قال الله حى ستير يحب الحياء والستر فاذا اغتسل احدكم فليستتر رواه ابوداؤد الخ بل ذكر في جواز الكشف في الخلوة في القنية اختلافا فقال تجرد في بيت الحمام الصغير لعصر ازاره او لحلق العانة يأثم وقيل يجوز في مدة يسيرة وقيل لا بأس به وقيل لا يجوز ان يتجرد للغسل الخ (غنية المستملي ص۴۹ – ۵۰). ظفير

([2]) وعفى دم سمك الخ وانتضاء غسالة لا تظهر مواقع قطرها في الاناء عفو (درمختار) وفي الفتح وما ترشش على الغاسل من غسالة الميت مما لا يمكنه الامتناع عنه مادام في علاجه لا ينجسه لعموم البلوى الخ (ردالمحتار باب الانجاس ص۳۰۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۲۴ – ۳۲۵). ظفير

([3]) وقيل يجوز ان يتجرد للغسل وتجرد زوجة للجماع ايضا اذا كان البيت صغيرا (غنية المستملي ص۵۰). ظ

([4]) فلا يجوز كشف العورة عند من لا يجوز نظره اليها (غنية المستملي ص۴۹) وهى اى العورة للرجل تحت سرته الى ما تحت ركبته (درمختار) فالركبة من العورة لحديث على ﷺ قال قال رسول الله صلّى الله عليه وسلّم الركبة من العورة (ردالمحتار باب شروط الصلوة مطلب في ستر العورة ص۳۷۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۴). ظفير

([5]) وان يغتسل في موضع لا يراه احد لاحتمال بدء العورة حال الاغتسال او اللبس (غنية المستملي ص۴۹). ظفير الدين

په بند ځای کی په لڅ بدن غسل درست دی: **سوال**: (**۱۰۵**) په بند ځای کی په لڅه غسل کول صحیح دی او که نه؟

جواب: په داسی ځایونو کی په لڅه غسل کول صحیح دی. ([1]) فقط

څلورم فصل : دغسل واجبوونکی

دجامی سره پردخول غسل سته اوکه نه؟ **سوال**: (**۱۰۶**) کله چی دسړی دحشفی سر دښځی په خاص ځای کی داخل سی نو غسل فرض کیږی برابره خبره ده چی منی وتلی وی اوکه نه، که چیري دواړو جامی اغوستی وی اوپورته ذکر سوی صورت مخ ته راسی نو پر دواړو غسل واجبیږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی هم داحتیاط خبره داده چی دواړه غسل وکړی په درمختار کی دی: الاحوط الوجوب الخ ([2]). فقط

که په ویښه منی ووزی نوبیا هم غسل واجب دی: **سوال**: (**۱۰۷**) که چیري په ویښه باندی منی ووزی نوغسل کول په کاردی اوکه نه ؟

جواب: که چیري په ویښه باندی منی ووزی نوبیا هم غسل واجب دی ([3]). فقط

دجماع څخه وروسته سمدستی غسل ضروري نه دی: **سوال**: (**۱۰۸**) بعضی خلگ دکوروالی څخه وروسته سمدستی دغسل کولو حکم کوی چی په دی کی دناروغه کیدو بیره هم وی آیا شرعی حکم هم دغه رکم دی؟

جواب: دابنه ده لیکن که چیري لږ وروستوالی وسی نوبیا هم څه حرج اوگناه نسته. ([4]) فقط

که دذکر حصه داخله سی نو پرښځی غسل سته اوکه نه؟ **سوال**: (**۱۰۹**) که چیري دسړی دذکر دسر څلورمه یانیمایی یا دریمه برخه دښځی په فرج کی داخله سی اوپه جوش سره منی ووزی او په فرج کی داخل سی نو په دغه صورت کی پرښځی هم غسل واجب دی او

([1]) وقیل یجوز ان یتجرد للغسل (غنیة المستملي ص۵۰) وحکی في القنیة اقوالا في تجرده للاغتسال منفردا منها انه یکره ومنها انه یعذر ان شاء الله تعالی ومنها لا بأس به ومنها یجوز في المدة الیسیرة ومنها یجوز في بیت الحمام الصغیر (ردالمحتار باب شروط الصلوة مطلب في ستر العورة ص۳۷۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۴). ظفیر

([2]) أولج حشفته أو قدرها ملفوفة بخرقة إن وجد لذة الجماع وجب الغسل وإلا لا علی الأصح والأحوط الوجوب (درمختار) ای وجوب الغسل في الوجهین، بحر وسراج الخ (ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۵۲ – ۱۵۳، ط.س. ج۱ ص۱۶۴). ظفیر

([3]) وفرض الغسل عند خروج منی من العصر (ایضاً ج۱ ص۱۴۸، ط.س. ج۱ ص۱۵۹). ظفیر

([4]) عن ابن عمر قال ذکر عمر بن الخطاب لرسول الله صلّی الله علیه وسلّم انه تصیبه الجنابة من اللیل فقال له رسول الله صلّی الله علیه وسلّم توضأ واغسل ذکرك ثم نم، متفق علیه (مشکوٰة باب مخالطة الجنب وما یباح له ص۴۹). ظفیر

که نه؟

جواب: پرښځی غسل واجب نه دی (۱). فقط

که مني په زور بند کړل سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۰) دڅو ورځو راهیسی زه بد خوبونه ډیر وینم او ددی سره می عادةً احتلام هم وسی، اوکله ناکله څه کوچنی قطره ووزی نوماته کله داشك پیدا کیږی چی قطره خو په ټوپ اوشهوت سره ووتله اوپه بعضو وختونو کی دشهوت اودټوپ څخه ماسوا دوتلو یقین می راځی، قطره کله ناکله دڅلور انیز برابره وی اوکله ددی څخه لږ لویه وی اوکله ددی څخه کوچنی وی داحتلام دبندولو څخه وروسته دشهوت څخه بغیر هم یوه یا دوی قطری راځی نوپه داسی حالت کی غسل فرض کیږی اوکه نه ؟

جواب: په کم صورت کی چی دپوره یا نیم قطری دوتلو یقین وی نوبیا غسل واجب دی اوپه کم صورت کی چی دقطری دوتلو یقین بالکل نه وی په هغه صورت کی غسل نه واجبیږی اوکه داحتلام دبندولو څخه وروسته یوه قطره دشهوت څخه بغیر راووزی نوامام ابویوسف رحمه الله فرمایی چی غسل نه باندی واجبیږی اوامام اعظم ابو حنیفه رحمه الله اوامام محمد رحمه الله فرمایی چی غسل په دی صورت کی واجب دی اوهم دا داحتیاط خبره ده (۲). فقط

دجماع په وخت کی پرذکر باندی کپړه پیچل او دغسل حکم: **سوال**: (۱۱۱) که چیري څوك پراندام مخصوصه باندی مضبوطه کپړه وپیچی اوجماع وکړی نوپه دی سره ولی غسل نه واجبیږی اوفعل اوعمل شنیع جائز دی اوکه نه؟

جواب: اصل دادی چی فقهاء ددی باب بعض مسائل لیکی چی دهغه تعلق اوتړون ددی باب سره وی اونور احکام نه لیکی نودا شیان باید دیو عالم څخه په ژبه وپوښتل سی وروسته دغسل دوجوب په مسئله کی ددی بحث نه کیږی چی دا فعل جائزدی اوکه نه؟ لکه څنګه چی دغسل په احکامو کی داهم لیکل کیږی چی که ددواړو لارو څخه په یوه

---

(۱) وفرض الغسل الخ عند إيلاج حشفة هي ما فوق الختان الخ أو إيلاج قدرها من مقطوعها ولو لم يبق منه قدرها قال في الأشباه لم يتعلق به حكم ولم أره (درمختار) قوله هى ما فوق الختان كذا في القاموس وزاد الزيلعي من رأس الذكر في حاشية نوح افندي هى رأس الذكر الى الختان الخ (ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۴۹ - ۱۵۰، ط.س. ج۱ ص۱۲۱). ظفير

(۲) وفرض الغسل عند خروج مني الخ منفصل عن مقره الخ بشهوة الخ لانه ليس بشرط عندهما خلافا للثاني ولذا قال وان لم يخرج من رأس الذكر بها وشرطه ابو يوسف وبقوله يفتى الخ (درمختار) ولا سيما قد ذكروا ان قوله قياس وقولهما استحسان انه الاحوط (ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۴۸ - ۱۴۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۹). ظفير

لاره کی حشفه ډوبه سی نوغسل بیا واجبیږی اوپه داسی ځایونوکی ددی تصریح نه کیږی چی دا ددواړو لارو څخه دیوی دایلاج دفعل اوعمل روا یا ناروا دی داحکم په نورو بابونوکی لیکل کیږی چی ایلاج فی الدبر حرام دی نو همدارنګه دجامی سره سره دجماع کولو په باره کی په دی باب کی یوازې ددی لیکل مقصود دی چی دافعل غسل واجبوی اوکه نه؟ او ددی دجواز اودعدم جواز لیکل مقصود نه دی بلکه ددی حکم په نورو ځایونوکی لیکل سوی دی اودا ددی باب سره څه تړاو لری اوغسل یوازې په هغه صورت کی نه واجبیږی چی کپړه اوجامه دومره سخته اوکلکه کړی چی حرارت اوخوند معلوم نه سی، اوهغه جامه اوکپړه چی دومره نری وی چی په هغه کی دکوروالی خوند حاصلیږی نویوازې په دخول سره په دی صورت کی غسل واجبیږی، اودانزال سره خو بالاتفاق غسل واجب دی، اودسختی کپړی په صورت کی هم داحتیاط خبره داده چی غسل وسی ددرمختار عبارت دادی: أولج حشفته ملفوفة بخرقة إن وجد لذة الجماع بان كانت الخرقة رقيقة بحيث يجد حرارة الفرج واللذة وجب الغسل وإلا لا على الأصح والأحوط الوجوب (درمختار) ([1]) قوله والا لا ای ما لم ينزل، اود: والاحوط الوجوب، ترشرح لاندی یی په شامی کی لیکلی دی: وبه قالت الائمة الثلاثة الخ وهو ظاهر حديث اذا التقى الختانان وغابت الحشفة وجب الغسل) الخ شامی ([2]). فقط

که دښځی په شهوت سره منی ووزی نوغسل باندی واجبیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۲\۱) که چیري دښځو څخه دسړو په څېر منی خارج سی نوپه دوی غسل واجبیږی اوکه نه؟

داحتلام په وجه غسل: **سوال**: (۱۱۳\۲) که چیري دښځو احتلام اوسی نوغسل باندی فرض کیږی اوکه نه؟

جواب: ۱: غسل فرض دی ([3]). ۲: غسل فرض دی ([4]). فقط

دګوتی په ورداخلولو سره غسل نه واجبیږي: **سوال**: (۱۱۴\۱) که چیري یو څوك په قصد سره دښځی په فرج کی ګوته داخله کړی نوپه دی صورت کی پر ښځی غسل واجبیږی اوکه نه ؟

دننه په دوا اچولو سره غسل نسته: **سوال**: (۱۱۵\۲) که چیري یوه ښځه دبلی ښځی په خاص اندام کی دوا واچوی اویادننه کمه خرابی ووینی اولاس یاګوته وردننه کړی او دیو

([1]) الدر المختار على هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۵۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۶۴. ظفير

([2]) ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۵۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۶۴. ظفير

([3]) المعاني الموجبة للغسل إنزال المنى على وجه الدفق والشهوة من الرجل والمرأة حالة النوم واليقظة (هدايه فصل فى الغسل ص۷۳ ج۱). ظفير غفر له ([4]) ايضا. ظفير

شي دپيچلو څخه بغير ګوته وردننه کړی نوغسل واجب دی اوکه نه ؟

جواب: (۱ – ۲) په دی سره غسل نه واجبيږي. ([1]) فقط

که چيري نابالغه هلك دبالغی انجلی سره جماع وکړی نوغسل پر چا واجبيږی؟ سوال:

(۱۱۲) (الف): که چيري يو نابالغه هلك ديوی بالغی انجلی سره يا يو بالغ سړی دنابالغی انجلۍ سره جماع وکړی نوغسل پرچا واجبيږی ؟

جواب: پربالغی ښځی غسل واجبيږی اوکه چيري هلك دجماع قابل او وړ وی يعنی بلوغ ته نژدی وی اوشهوت يی هم راځی نوپر ده هم غسل واجبيږی اوهمدارنګه که بالغ سړی دنابالغه انجلۍ سره جماع وکړی نوپر سړی غسل واجبيږی، اوکه انجلی بلوغ ته نژدی او مراهقه وی اوشهوت يی هم راځی نو پردی هم غسل واجبيږی اودا مسئله په منية المصلی، هدايه، قدوری اوپه داسی نورو کتابونو کی ده ([2]). فقط

که دغسل څخه وروسته منی خارج سی نو آيا دوباره غسل کول واجب دی: سوال: (۱۱۲)

ب: که چيري ديو چامنی نرمه وی او دمتيازو دکولو څخه وروسته غسل وکړی اوبيا وروسته پاته منی راووزی نواوس دوباره غسل واجب دی اوکه نه ؟

جواب: په دی باره کی شامی داتفصيل کړی دی چی که دمتيازو دکولو څخه وروسته انتشار باقی وی اودهمدی انتشار په حالت کی باقی پاته منی راووزی نودوباره غسل کول واجب دی اوکه انتشار باقی نه وی پاته سوی نوغسل نه واجبيږی، اودغسل دوجوب دپاره داشرط دی چی منی په شهوت سره جلا سی اګر چی خروج اووتل په شهوت سره نه وی مګر دضرورت په ځايونوکی دشهوت سره پروتلو فتوٰی ده اوهمدغه قول دامام ابويوسف (رح) دی نودضرورت دځايونوڅخه بغيرپردی فتوٰی ده چی جلاوالی اوانفصال په شهوت سره دغسل دوجوب دپاره شرط دی. *كذافی الدر المختار والشامی* ([3]) *وغيرهما*. فقط

([1]) ولا يجب الغسل عند إدخال إصبع رنحوه كذكر غير آدمي وذكر خنثى وميت وصبى لا يشتهي وما يصنح من نحو خشب فی الدبر او القبل علی المختار (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۵۳، ط.س. ج۱ ص۱۶۲) البته که چيري يوه ښځه دشدت شهوت په وجه سره دمنی ايستلو په اراده په شرمګاه (قبل) کی ګوته داخله کړي نوبيا غسل واجبيږي، وفی وجوب الغسل بادخال الاصبع فی القبل اوالدبر خلاف والأولی أن يجب فی قبل إذا قصد الإستمناء لغلبة الشهوة لأن الشهوة فيهن غالبة فيقام مقام السبب وهو الأنزال دون الدبر لعدمها (غنية المستملي معروف به كبيري ص۴۴). ظفير

([2]) صبی ابن عشر جامع إمرأته البالغة عليها الغسل لوجود مرارة الحشفة بعد توجه الخطاب ولا غسل علی الغلام لإنعدام الخطاب إلا أنه يؤمر به تخلقًا كما يؤمر بالوضوء والصلوة ولو كان الزوج بالغا والزوجة صغيرة تشتهی فالجواب بالعكس (غنية المستملي ص۴۴ بحث غسل). ظفير

([3]) وفی الخانية خرج منی بعدالبول وذكره منتشر لزمه الغسل قال فی البحر ومحمله إن وجد الشهوة (درمختار) =

دسريښ ناكو اوبو په وتلو سره غسل نسته: **سوال**: (۱۱۷) كه چيري دچا څخه سريښ ناكي اوبه خارجي سي نوپر ده غسل واجبيږي اوكه نه ؟

جواب: دسريښ ناكو اوبو په وتلو سره غسل نه واجبيږي (۱). فقط

كه دنابالغي سره وطی وسی نوپر هغي باندي غسل نسته مګر غسل كول مستحب دي: **سوال**: (۱۱۸) ديوی نابالغي انجلۍ سره زنا وسوه نوپر دی انجلۍ غسل فرض دی اوكه نه ؟

جواب: پر نابالغي غسل فرض نه دی مګر غسل كول ددې وجه ښه اوبهتر دی (۲). فقط

دجنابت څخه وروسته يوه ښځه سمدستی حائضه سوه نوغسل به دحيض دختميدلو څخه وروسته كوي: **سوال**: (۱۱۹) يو څوك دخپلی ميرمنی سره كوروالی وكی خو سهارته هغه ميرمنه حائضه سوه نودده پرميرمني دجنابت غسل فرض دی اوكه نه؟

جواب: دجنابت غسل پردی فرض نه دی بلكه دحيض څخه دپاكيدلو وروسته دی غسل وكړی (۳). فقط

په زنا او اغلام (بچه بازي) وغيره سره هم غسل واجب دي: **سوال**: (۱۲۰) په اغلام وغيره سره غسل واجب دی كه مستحب؟

جواب: په دی حالت كی غسل واجب دی (۴) اوپه دغه شنيع فعل سره سړی دګناه كبيره

= قوله ومحمله ای ما فی الخانية قال فی البحر ويدل عليه تعليله فی التجنيس بأن فی حالة الأنتشار وجد الخروج والأنفصال جميعا علی وجه الدفق والشهوة آه وعبارة المحيط كما فی الحلية رجل بال فخرج من ذكره منی إن كان منتشرا فعليه الغسل لأن ذلك دلالة خروجه من شهوة (ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۴۹، ط.س. ج۱ ص۱۲۱) لأنه ای الدفق ليس بشرط عندهما خلافا للثاني ولذا قال وإن لم يخرج من رأس الذكر بها (اي بشهوة) وشرطه ابويوسف وبقوله يفتی فی ضيف خاف ريبة واستحيی الخ وبقول ابي يوسف نأخذ لأنه ايسر علی المسلمين قلت ولاسيما فی الشتاء والسفر (درمختار) فينبغی الإفتاء بقوله فی مواضع الضرورة فقط (رد المحتار ايضا، ط.س. ج۱ ص۱۵۰). ظفير

(۱) لا (أي لا يفرض الغسل) عند مذي او ودي بل الوضوء منهما ومن البول جميعا علی الظاهر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۵۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۲۵). ظفير

(۲) وعند ايلاج حشفة ادمي الخ فی احد سبيلی آدمي حي يجامع مثله عليهما ای الفاعل والمفعول إن كانا مكلفين ولو احدهما مكلفا فعليه فقط دون المراهق لكن يمنع من الصلوة حتی يغتسل ويؤمر به ابن عشر تأديبا (درمختار) وفی القنية قال محمد وطی صبية يجامع مثلها يستحب لها ان تغتسلي كانه لم ير جبرها وتأديبها علی ذلك (رد المحتار ابحاث الغسل ص۱۴۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۲۱ – ۱۲۲). ظفير

(۳) وفرض الغسل (إلی قوله) عند إنقطاع حيض ونفاس الخ اي يجب عنده (درمختار) ای عند تحقق الإنقطاع ونحوه والمراد بعده (ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۵۳، ط.س. ج۱ ص۱۲۵) الأجماع علی أنه لايجب الوضوء علی المحدث والغسل علی الجنب والحائض والنفساء قبل وجوب الصلوة او إرادة ما لا يحل إلا به كذا فی البحر الرائق (عالمگيري كشوري موجبات غسل ج۱ ص۱۵، ط. ماجدية ج۱ ص۱۲). ظفير

(۴) وفرض الغسل عند خروج المنی الخ وعند ايلاج حشفة هی ما فوق الختان الخ اوايلاج قدرها من مقطوعها =

مرتکب کيږی ، ددغه څخه دی توبه وکاږی اوجنابت که د حلال فعل دوجه وی اوکه دحرام څخه وی دغسل طریقه یی یوه ده. فقط

ددوا اچولو دپاره په شرمګاه کی په ګوتی داخلولو سره غسل نه واجبیږی: سوال: (۱۲۱) که چیري یوه دایي دوه دری واری ددوا اچولو په خاطر یوه یادوی ګوتی دیوی ښځی په شرمګاه کی داخلی کړی نوپر مدخوله غسل واجب دی اوکه نه ؟

جواب: په دی غسل نه واجبیږی (۱). فقط

که چیري څوک خپله ګوته دشهوت څخه بغیر پخپله شرمګاه کی ورکړی نونه غسل واجبیږی اونه روژه ماتیږی: سوال: (۱۲۲) که چیري یوه ښځه دشهوت څخه بغیر په خپل فرج کی ګوته ورکړی نوپه دی سره غسل واجبیږی اوکه نه؟ او دروژی په حالت کی په داسی کولو سره په روژه کی څه فرق اوتوپیر راځی اوکه نه؟

جواب: نه غسل واجبیږی اونه په روژه کی څه فرق راځی (۲). فقط

که څوک دخوب څخه رابیدار سی اوپر خپل اندام لوندوالی ووینی او دایی یقین وی چی دا منی ده نوغسل پر واجب دی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۳) که چیري یو څوك دخوب څخه رابیدار سی اود خپل ذکر په احلیل کی لوندوالی ووینی اوده ته دایقین وی چی احتلام می نه دی سوی اویا ورته احتلام یاد نه دی اودا دمذی لوندوالی وی اوپر بدن اوجامی یی مطلقًا دمنی اثر نه وی نوپه دی صورت کی غسل واجب دی اوکه نه ؟

جواب: په دی صورت کی غسل واجب نه دی اوصاحب دمنية المصلی مطلقًا په دی صورت کی غسل ته واجب نه دی ویل لکه څرنګه چی هغه په عبارت: وان کان ذکره منتشراً قبل النوم (۳) سره ددی تفصیل کړی دی چی په کم صورت کی یی غسل ته واجب ویلي دی نو هغه وجوب یی احتیاطاً ویلی دی لکه څنګه چی دکبیری عبارت کم چی په جلا کاغذه کی نقل سویدی په هغه کی داپه ډاګه ده چی په دي کی دغسل پروجوب کم دلیل نسته او بیایی وروسته دغسل دعدم وجوب دلیلونه بیان کړی دی. (۴) فقط

= الخ فی احد سبیلي ادمي حي یجامع مثله علیهما ای الفاعل والمفعول لو کانا مکلفین (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۴۹ – ۱۵۰، ط.س. ج۱ ص۱۲۰ – ۱۲۱). ظفیر

(۱) ولا (یفرض الغسل) عند ادخال اصبع ونحوه فی الدبر اوالقبل علی المختار (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۵۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۲۲) او ادخل إصبعه الیابسة فیه ای دبره او فرجها الخ لم یفطر (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الصوم باب مایفسد الصوم وما لا یفسده ج۱ ص۱۳۵، ط.س. ج۲ ص۳۹۷). ظفیر　　　(۲) ایضا. ظفیر

(۳) غنیة المستملي ص۴۱ فصل فی الطهارة الکبری. ظفیر

(۴) وإن إستیقظ فوجد فی إحلیله بللا لا یدري أمنی أم مذی ولم یتذکر حلما ینظر إن کان ذکره منتشرا قبل =

په خوب کې یې ښځې سره جماع وکړه مګر انزال یې نه ؤ سوی نو چې کله رابیدار سو نو دمتیازو کولو په وخت کې ورڅخه سپین قطرات ووته ، ددې څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۲۴)

زید په خوب کی دیوی ښځی سره جماع وکړه خو انزال یی نه دی سوی خو چی زید دخوب څخه بیداره سو اوکله چي یی متیازی کولی نو دمتیازو څخه مخکی یی څو سپینی قطری چی نرمی هم وی دذکر څخه خارجي سوی نوپر زید غسل واجب دی اوکه نه؟

عمر دسرعتِ انزال په مرض اخته دی یعنی دمنی نرموالی ورسره ملګری سویدی که چیري څه قسم تصور اوخیال وکړی هغه که په خوب کی وی اوکه په ویښه نوذکر یی منتشر کیږی اودذکر څخه یی څو نرمی اوسپینی قطری را وزی اوکله داسی هم کیږی چی دخیال اودتصور اودانتشار څخه ماسوا دمتیازو څخه مخکی څو سپینی نرمی قطری خارجیږی نوپه دی ټولو حالتونو کسی غسل واجب دی اوکه نه؟

جواب: دابښکاره ده چی په دی ټولو صورتونوکی چی څومره سپینی قطری راوزی دامذی دی ځکه چی دمذی تعریف چي (ماء رقیق ابیض یخرج عند الشهوة) شامی (۱) پردی صادقیږی نو دهمدی وجه څخه پردې غسل نه واجبیږی اوکه داحتیاط په ډول غسل وکړی نودا ډیره غوره اوبهتره ده (۲). فقط

دغسل دفرض کیدو په حالت کی دخلګو په مخ کی غسل کول جائز دی اوکه نه؟ **سوال**:

(۱۲۵) په بهشتی ګوهر کی یی لیکلی دی چی که پرچا باندی غسل فرض سی اوپه پرده کی ځای نه وی نوپه داسی حالت کی دسړی دپاره دخلګو په مخ کی اودښځی دپاره دښځو په مخکی غسل واجب دی زید وایی چی دواجب لفظ په اصل عربی عبارت کی نسته خوبکر وایی چی دا ترجمه بالکل صحیح ده نوتاسو یی فیصله وکړی؟

جواب: دا مسئله صحیح ده په در مختار کی عربی عبارت همدا رکم دی چی هغه دادی: علیه غسل وثمه رجال لا یدعه وان رأوه والمراة بین الرجال او رجال ونساء تؤخره لابین النساء (۳) فقط، ددی ترجمه اومطلب همدغه دی کم چی مولانا لیکلی دی زید چی

= النوم فلا غسل علیه لأن الإنتشار سبب لخروج المذی فیحمل علیه وإن کان ذکره قبل النوم ساکتا فعلیه الغسل للإحتیاط المذکور فی الخلاصة الخ (غنیة الستملي ص۴۱). ظفیر

(۱) ردالمحتار أبحاث الغسل تحت قوله: لا عند مذی ج۱ ص۱۵۳، ط.س. ج۱ ص۱۶۵. ظفیر

(۲) لا (ای لا یفرض الغسل) عند مذی او ودی بل الوضوء منه ومن البول جمیعا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۵۳، ط.س. ج۱ ص۱۶۵). ظفیر

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۴۳، ط.س. ج۱ ص۱۵۵، علامه شامی چه پردي باندي کم نوټ نقل کړیدی هغه په هر لحاظ قابل غور دی. دی لیکي: قوله لایدعه وإن رأوه عزاه فی القینة إلی الوبري قال فی شرح المنیة وهو غیر مسلم لأن ترك النهی مقدم علی فعل الامور وللغسل خلف وهو التیمم =

دعربی عبارت دمفهوم دپوهیدلو استعداد نه لری نوباید اعتراض ونه کړی دلا یدعه لفظی ترجمه داده چی داکس به غسل نه پریږدی مگر ددی مطلب دادی چی غسل واجب دی. فقط

دڅو ځله جماع کولو څخه وروسته یوغسل کافي دي: **سوال**: (١٢٦) که چیري یو څوك په یوه شپه کی څو واری جماع وکړی اوپه سهار کی یوازي یوغسل وکړی نودا به کافی اوبس وی اوکه نه ؟

جواب: یوغسل کافی دی ([1]). فقط

دجنابت په حالت کی دغلاف سره قرآن پاک ته لاس وروړل روا دی اوکه نه؟ **سوال**: (١٢٧) قرآن پاك ته دجنابت په حالت کی په غلاف سره لاس وروړلی سی اوکه نه؟ او داودس څخه بغیر قرآن پاك او دورد شریف ویلی سی اوکه نه ؟

جواب: په غلاف سره جنب قرآن پاك ته لاس وروړلی سی ([2]) او دقرآن پاك اودرود ویل داوداسه څخه بغیر صحیح دی ([3]). فقط

ذکر په هرحالت کی روا دی: **سوال**: (١٢٨) که یو څوك دپاکی او دناپاکی پروا نه لری اوهر وخت په ناسته اوولاړه یا الله یا رحیم اویا کریم وایی داروا دی اوکه نه ؟

جواب: یا الله یارحمٰن یارحیم یاکریم ویل په ناسته او ولاړه اوددی عادت جوړول جائز بلکه ډیر ښه اوبهتر دی او دلوستونکی دپاره اجر اوثواب دی ان شاء الله تعالٰی، که اودس ولری نوداخو ډیره ښه ده اوډیر ثواب لری اوبغیر داودس څخه هم صحیح دی اوپه

= فلا یجوز کشف العورة لأجله عند من لایجوز نظره إلیها بخلاف الختان وتمامه فیه (رد المحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۴۳، ط.س. ج۱ ص۱۵۵) داټول بحث دبربنډ لامبلو په هکله دي، لیکن که لنګ ووهي او دسړیو په مینځ کي غسل کوي بیا هیڅ خبره نسته، فان ارید بقوله وان رأوه وبقول الآخر وما ثمه سترة، رؤیته ماسوی العورة فلا کلام وإن ارید العورة کما قال البزازي کشف إزاره فی الحمام لغسله وعصره لا یأثم لعدم إمکان تطهیره بدونه والاثم علی الناظر غیر مسلم لأن ترك المنهی أقدم الخ دلته دجواب ورکوونکي مفتي صاحب رحمه الله وجه دا معلومیږي چي دستر څخه علاوه برخه که خلك ووینی نو لنګ وهل او لامبل واجب دي، دا وجه هیڅکله نه ده چي دخلګو په وړاندي بربنډ لمبیدل واجب دي، والله اعلم. ظفیر

([1]) عن أنس قال کان النبی صلّی الله علیه وسلّم یطوف علی نسائه بغسل واحد رواه مسلم (مشکوة باب مخالطة الجنب ومایباح له ص۴۹). ظفیر

([2]) ولا یجوز لهم ای للجنب والحائض والنفساء مس المصحف إلا بغلافه وکذا کل ما فیه آیة تامة من لوح اودرهم ونحو ذلك لقوله تعالی: لایمسه إلا المطهرون (غنیة الستملي ص۵۲). ظفیر

([3]) ولا تکره قراءة القرآن للمحدث ظاهرا أی علی ظهر لسانه حفظا بالإجماع (غنیة المستملي ص۵۷) والوضوء لمطلق الذکر مندوب وترکه خلاف الأولی (الدر المختار علی هامش رد المحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۲۱، ط.س. ج۱ ص۱۴۷). ظفیر

دي كى هم ثواب دى [1]. فقط

الباب الثالث فی المیاه

اول فصل : پاکی او ناپاکی اوبه

که چیري نجاست دلس په لسو څخه په کمو اوبو کی ولویږی نو اوبه پلیتیږی: **سوال**: (۱۲۹)
په ګودره نومي سیمي کی دسختی وچکالی دوجه تالابونه وغیره وچ سول دوبیانو ته دجامو په مینځلوکی ډیره سختی پیداسوه په دی حالت کی هغوی یوی ویالې ته نژدی پنځه پنځه ګزه کندی او غارونه وکنبل اودجامو پریمنځل یی شروع کړل اوچی کله به جامی سپینی اوپاکی سوی نودغه اوبه به یی را وایستلی اونوری اوبه به یی ورواچولی اوبیابه یی هغه جامی په دی اوبوکی پاکی کړی ، په دی اوبو کی هرقسم جامی پریمنځل کیږي، اوس ددی خبری وضاحت غواړو چی دا اوبه به پاکی وی اوکه نه؟ اوهمدا رکم دغه جامی پاکیږی اوکه نه؟ اوکه په هغه جامو یی لمونځ کړی وی چی په دی اوبو پریمنځل سوی وی نو ددغه لمانځه اعاده لازمی ده اوکه نه ؟

جواب: ولاړی اوبه کمی چی دلس په لسو څخه کمی وی نوکه په دی کی نجاست ولویږی پلیتیږی اوناپاکه جامه په دي کی نه پاکیږی اوکه ناپاکه جامه په دی اوبوکی واچول سی نودا اوبه باندی پلیتیږی [2] نوری ناپاکی جامی اوهمدغه ناپاکه جامه په دغه اوبو نه پاکیږی [3] اومخکی سوی لمونځونه چی په دغه جامو سوی دی چی په دی اوبو پریمنځل سویدی نوترکمه چی ددی یقین نه وی چی پلیتی جامی په دی اوبوکی لویدلی دی اوددی دلویدلو څخه وروسته ددغه لمونځونو والا کپړه په دی ناپاکه اوبوکی لویدلی ده نوپه دی صورت کی تردغه وخته دمخکی سوو لمونځونو اعاده لازمی نه ده مقصد داچی لکه څه رکم چی دا تحقیق اویقین سخت دی نو دهمدی وجه څخه دمخکي سوو لمونځونو اعاده ضروری نه ده [4] په راتلونکی اوآینده کی احتیاط کول په کاردی،

---

[1] وإلا فالوضوء لمطلق الذکر مندوب وترکه خلاف الأولی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۲۱، ط.س. ج۱ ص۱۴۷). ظفیر

[2] وکل ماء (قلیل) وقعت النجاسة فیه لم یجز الوضوء به قلیلا کانت النجاسة او کثیرا (هدایه باب الماء الخ ج۱ ص۴۱). ظفیر

[3] وبول إنتضح کرؤوس إبر الخ لکن لو وقع فی ماء قلیل نجسه فی الأصح (درمختار) قال فی الحلیة لو وقع هذا الثوب المنتضح علیه البول مثل رؤوس الإبر فی الماء القلیل هل ینجس ففی الخلاصة الخ ینجس الخ المختار انه ینجس إن کان اکثر من قدر الدرهم (رد المحتار باب الأنجاس ج۱ ص۲۹۷ – ۲۹۸، ط.س. ج۱ ص۳۲۲ – ۳۲۳). ظفیر

[4] الیقین لا یزول بالشك (الاشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵). ظفیر

فقط. والله تعالیٰ اعلم

په خرشنو اوسوټو سره دډوډۍ پخول او داوبو ګرمول څنګه دي؟ **سوال**: (۱۳۰) که چیري داوداسه دپاره دحیواناتو لکه دبزی، غوا، میږی، آس، اوښ اودانسان سوټی او موادِ غائطه وغیره وسوځل سی او اوبه باندی ګرمی سی اویا ډوډی باندی پخه سی نوپه دغه اوبو اودس کول روا دی اوکه نه؟ اوددغه ډوډی خوړل جائزدی اوکه نه ؟

جواب: دا اوبه پاکی دی په دی اودس اوغسل کول صحیح دی اوکمه ډوډی چی په دی پخه سوی وی هغه هم پاکه ده او دهغې خوړل روا او صحیح دی. (۱) فقط

په حوض کی دجنابت وغیره غسل روا دي اوکه نه؟ اوکه سپی یاخنزیر پکښی لویدلی وی اومړسی نوڅه حکم لري؟ **سوال**: (۱۳۱\۱) په حوض اوډب کی دننه دجنابت، حیض اونفاس غسل صحیح دی اوکه نه؟ اوکه په حوض کی خنزیر یاسپی ولویږی نوددی اوبه پاکی دی اوکه نه ؟

هغه اوبه چي دجنب څخه دغسل کولو په وخت په یوه لوښی کی ولویږی څه حکم لري؟

سوال: (۱۳۲\۲) که چیري یو څوك دجنابت غسل کوی یا ښځه دحیض اودنفاس اودهغه څاڅکی په یوه لوښی کی ولویږی نوددی اوبو حکم څه دی؟

جواب: ۱: لس په لسه حوض کی داټول امور جائز او روا دی (۲). فقط

۲: په دي کی هیڅ حرج نسته اواوبه یې پاکی دی (۳) اولږ مستعملی اوبه ډیری غیر مستعملی نه سی مستعملولی (۴). فقط

---

(۱) لا یکون نجسا ماء قذر والا لزم نجاسة الخبز فی سائر الأمصار (درمختار) المراد به العذرة والروث (رد المحتار باب الانجاس ج۱ ص۳۰۱، ط.س. ج۱ ص۳۲۲). ظفیر

(۲) وكذا يجوز براكد كثير كذلك اى وقع فيه نجس لم ير أثره الخ وأنت خبير بان إعتبار العشر أضبط ولاسيما فی حق من لا رأي له من العوام فلذا افتى به المتاخرون الأعلام (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۷۲ – ۱۷۷، ط.س. ج۱ ص۱۹۰). ظفیر

(۳) جنب إغتسل فانتضح من غسله شيء فی إنائه لم يفسد عليه الماء (عالمگيري مصرى باب المياه ج۱ ص۲۲، ط.س. ج۱ ص۲۳) قوله وهو طاهر ولو من جنب الخ رواه محمد عن الإمام هذه الرواية هی المشهورة عنه واختارها المحققون قالوا عليها الفتوى لا فرق فی ذلك بين الجنب والمحدث واستثنى الجنب فی التنجيس إلا أن الإطلاق اولى وعنه التخفيف والتغليظ ومشائخ العراق نفرا ، الخلاف وقالوا انه طاهر عند الكل وقد قال فی المجتبى صحت الرواية عن الكل أنه طاهر غير طهور، الخ قوله وهو الظاهر كذا فی الذخيرة اى ظاهر الرواية وممن صرح بأن رواية الطهارة ظاهر الرواية وعليها الفتوى (رد المحتار باب المياه ج۱ ص۱۸۵، ط.س. ج۱ ص۲۲۰ – ۲۲۱) خو شرط دادي چي پربدن یاجامه باندي به نجاست حقیقیه نه وي لګیدلی. ظفیر

(۴) او مماثلا كمستعمل فبالأجزاء فان المطلق اكثر من النصف جاز التطهر بالكل وإلا لا وهذا يعم الملتقى والملاقى ففي الفساقي يجوز التوضي ما لم يعلم تساوى المستعمل (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار باب=

چی داوبو خوند وغیره بدل سی نوناپاکي دي: **سوال:** (۱۳۳\۱) که چیري داوبو رنګ اوخوند اوبوی بدل سی نوپاکی دی اوکه ناپاکی ؟

دلس په لسو څخه په کمو اوبو کی چی ظاهري نجاست واقع نه وی پاکي دي: **سوال:** (۱۳۴\۲) په اوبو کی که نجاست ظاهری نه وی اودغه اوبه ترلس په لسوکی کمی وی او ژوروالی یی هم زیات نه وی لکه دځنګل کندی نواوبه یی پاکی دی اوکه نه ؟

دلس په لسه ژوروالي باید څومره وي؟ **سوال:** (۱۳۵\۳) دلس په لسه اوبو ژوروالی اوپلنوالی څومره په کاردی؟

جواب: ۱: دنجاست دوجه که داوبو خوند یابوی اورنګ یاپه دی دروکی دوه یا ټول بدل سی نودغه اوبه ناپاکی دی (۱).

۲: پاکی دی (۲).

۳: دپلنوالی او دژوروالی یی څه مقرره اندازه نه ده ټاکل سوی اوپه هدایه کی راغلی دی چی دومره ژوروالی په کاردی چی دلپی په ډکولوسره ځمکه ښکاره نه سی (۳). فقط

په کم تالاب کی چی پلیتي اوبه جمعه کیږي هغه پاکي دي اوکه نه؟ **سوال:** (۱۳٦) که چیری یوډب ته بارانی اونهری اوبه راځی خوپه بارانی اوبوکی دټول ښار ګندګی هم دی ډب ته راځی نوپه دغه اوبو دجامو پریمنځل اواودس کول صحیح دی اوکه نه ؟

جواب: دا اوبه پاکی دی اوپه دی باندی اودس کول اودجامو پریمنځل صحیح دی. (۴) فقط

داودس څخه په پاته سوو اوبه استنجاء کول: **سوال:** (۱۳۷) داودس څخه په پاته سوو اوبو استنجاء او داستنجاء څخه په پاته سوو اوبو اودس کول څنګه دی؟

جواب: صحیح دی. فقط

چی په تالاب کی سپی مړسی او وپړسیږي نو اوبه پاکي دي اوکه ناپاکي دي؟ **سوال:** (۱۳۸) په یوه خام تالاب کی چی دهغه دوه لښتیان وی چی په یوه لښتی کي یی داوبو ژوروالی

= المیاه مطلب فی مسئلة الوضوء من الفساقي ج۱ ص۱۲۸، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفیر

(۱) إن الغدیر العظیم کالجاري لا یتنجس إلا بالتغیر من غیر فصل هکذا فی فتح القدیر (عالمگیري کشوري باب المیاه ج۱ ص۱۲، ط. ماجدیة ج۱ ص۱۸) وبتغیر احد اوصافه من لون اوطعم اوریح ینجس الکثیر واما القلیل ینجس وإن لم یتغیر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۷۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۵). ظفیر

(۲) لا لو تغیر لطرل مکث فلو علم نتنه بنجاسة لم یجز ولو شك فالأصل الطهارة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۷۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفیر

(۳) والمعتبر فی العمق أن یکون بحال لا ینحسر بالاغتراف هو الصحیح (هدایه باب المیاه ج۱ ص۴۲) إذ المعتمد عدم إعتبار العمق وحده (درمختار، ط.س. ج۱ ص۱۸۷). ظفیر

(۴) إن الغدیر العظیم کالجاري لایتنجس إلا بالتغیر (عالمگیری کشوري ج۱ ص۱۲، ط. ماجدیة ج۱ ص۱۸). ظ

دوه فټه اوددوهم لښتی ژوروالی دری نیم فټه وی بلکه ددې څخه هم ډیروی، دډیرو اوبو په طرف کی یو لیونی سپی داخل سی اومړ سی څوساعته په دی اوبوکی پاته سی بیا وایستل سی مګر پړسیدلی وی خوخلګ ددی اوبه نه استعمالوی ایا دا اوبه پاکی دی اوکه نه ؟

جواب: که چیري دغه تالاب چی دهغه ژوروالی دوه اودری فټه ښودل سوی که چیري لس لاسه پلن وی اولس لاسه اوږد وی یعنی لس لاسه مربع وی نو دسپی په مړ کیدو اوپړسیدو دا تالاب ترهغی نه پلیتیږی چی ترکمه په دی اوبو کی ددی مرداری اوبد بویی نه وی راغلی اویا یی په خوند اورنګ کی بدلون نه وی راغلی: کما فی الدرالمختار وکذا یجوز براکد کثیر کذلک ای وقع فیه نجس لم یر اثره بحر الی قوله وفی النهر: وانت خبیر بان اعتبار العشر ضبط لاسیما فی حق من لا رأی (۱). فقط

که اوبه بی لمانځه کس را ایستلی وی په هغو اودس روادی: **سوال**: (۱۳۹) هغه اذان کوونکی چی لمونځ نه کوی اواوبه هغه را ایستلی وی اولوښی ورڅخه ډك کړی وی نو په دغه اوبو اودس صحیح دی اوکه نه؟

جواب: په دی اوبو اودس کول صحیح دی اوچا چی په دی اوبو اودس کړی وی دهغوی په لمانځه کی هیڅ نقصان نسته. (۲) فقط

که یو بدعتی سړی چاته اوبه ورکړی نوپه هغو اودس کول صحیح دی: **سوال**: (۱۴۰) دلسم دمحرم دتعزیت دپاره خلګ دمشکیزو څخه اوبه شیندی نوکه چیري یو کس ددغه مشکیزو اوبه دجومات په سقاوه کی واچوی نو په دغه اوبو اودس کول صحیح دی اوکه نه ؟

جواب: په دغه اوبو اودس صحیح دی (۳) اوددی شیندل دتعزیت دپاره دا صحیح کارنه دی (۴). فقط

دکلی په لوی ډنډ کی که چیري غلیظی اوبه جمع کیري نودغه اوبه پاکی دی اوکه ناپاکی؟

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۷۲، ط.س. ج۱ ص۱۹۰. ظفیر

(۲) دډکوونکي اعتبار نسته که هغه هرڅوك وي اوبه پاکي کیدل ضرور دي: وتجوز الطهارة الحکمیة بماء مطلق الخ ظاهر (غنیة المستملي ص۸۲ ج۱ باب المیاه). ظفیر

(۳) ځکه چي اوبه پاکي دي: یرفع الحدث بماء مطلق هو مایتبادر عند الأطلاق کماء سماء واودیة وعیون وآبار وبحار وثلج مذاب الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۲۲، ط.س. ج۱ ص۱۷۹). ظفیر

(۴) قال النبی صلّی الله علیه وسلّم من أحدث فی أمرنا هذا ما لیس منه فهو رد، رواه مسلم (مشکوة باب الأعتصام بالکتاب والسنة ص۲۷). ظفیر

سوال: (۱۴۱) دزیاتره کلیو سره نږدې ډنډونه وي په هغو کې دباران په موسم کې دټول کلي غلیظلې اوبه راغونډیږي اودومره اوبه نه وي چې وبهیږي او هاخوا دیخوا ته ووزي مگر دغه ډنډ لوی وي آیا دا اوبه دروانو اوبو په حکم کې دي اوپه دي اودس اوغسل روا دي اوکه نه ؟

جواب: دا اوبه پاکې دي اوپه دي باندې اودس اوغسل کول صحیح دي (1). فقط

په ناپاکه اوبو غسل روا نه دی: **سوال:** (۱۴۲) په ناپاکه اوبو باندې غسل روا نه دی اوکه روا وي نوپه کم وخت کې روا دی؟ اوچې په ناپاکه اوبو باندې غسل وکړي نوبیا جومات ته داخلیدلی سی اوکه نه؟ اوقرآن پاك لوستلی سی اوکه نه؟

جواب: په ناپاکه اوبو غسل واجب نه دی اودا غسل معتبرنه دی یعنی څوك دجنابت څخه نه په وزي نو دهمدی کبله جومات ته داخلیدل او دقرآن پاك لوستل په دی غسل صحیح نه دی په درمختار کی دی: یرفع الحدث مطلقا بماء مطلق قال فی الشامی فخرج المقید والماء المتنجس والماء المستعمل الخ شامی (2).

په سرکاري نهرکې اودس کول روا دي: **سوال:** (۱۴۳) نن سبا چې کم سرکاری نهرونه دځمکې دخړوبولو دپاره جاری سوی دي که په دی نهرونوکې دسرکار یا دسرکاری ملازمینو داجازې څخه بغیر څوك اودس اوغسل وکړي نودا روا دی اوکه نه ؟

جواب: داودس اودغسل دپاره ددی نهر څخه اوبه اخیستل صحیح دی. فقط

دهغه نهر اوبه چې په هغه کې دمواد غائطه لښتې اوبه ورتوییږي: **سوال:** (۱۴۴) په هلدوانی نومي سیمه کې اوپه کلی کې یونهر جاری دی اوټول خلگ ددی اوبه چیښی مگر په دغه نهر کې دسیمې دڅو کورونو دغټو متیازو اوبه راتوییږي نو ددغه نهر اوبه چښل په کار دی اوکه نه؟

جواب: ددی نهر اوبه پاکې دي اوپه دي اودس کول او ددی چښل صحیح دي (3). فقط

دباران بهیدونکې اوبه دباران تروختنه پاکې دي: **سوال:** (۱۴۵) دباران اوبه دباران په وخت کې چې په سړکونو اوپه لښتیوکې دیوگز پلنوالی اونیم گز ژوروالی په صورت کې په ساعتونو متواتری بهیږي نوپه داسې اوبو باندې اودس کول اوغسل روا دي اوکه نه؟

---

(1) وکذا یجوز براکد کثیر کذلك ای وقع في نجس لم یر اثره (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۷۲، ط.س. ج۱ ص۱۷۲). ظفیر

(2) ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۲۵ – ۱۲۲، ط.س. ج۱ ص۱۷۹. ظفیر

(3) ویجوز بجار وقعت فیه نجاسة والجاري هو ما یعد جاریا عرفا الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ص۱۷۳، ط.س. ج۱ ص۱۸۷). ظفیر

جواب: په دغه اوبو سره غسل او اودس کول صحیح دی ([1]). فقط

دپاک چلم په اوبو سره اودس کول صحیح دي: **سوال**: (۱۴۶) که چیري اوبه نه پیدا کیږی نو دچیلم په اوبو اودس کول روا دی اوکه نه ؟

جواب: که چیري چلم پاك وی نو اودس کول په صحیح دی ([2]). فقط

په لږو اوبوکی چی لاس کښته کړی اواودس په وکړی نواوبه نه پلیتیږی: **سوال**: (۱۴۷) زید وایی که چیري اوبه دنیم صاع په اندازه یا زیاتي یاکمي وی نو دلاس او اعضاؤ په داخلولو سره دهغو څخه ډیرو کسانو لره په یوه حالت کي اودس کول روادی ترڅو چي دمستعملو اوبو برابریدل دغیر مستعملو اوبو سره په یقیني ډول ثابت نه سي، په دلیل دقول ددرمختار: ففی القهستانی یجوز التوضی ما لم یعلم تساوی المستعمل، اوپه دلیل دشامی چي همدا قول صحیح دی او ابوبکر وایی چی ددی اوبو مذکورو څخه اودس کول جائز نه دی په دلیل دقول دشامی په نزد ددې قول ددرمختار: فرع، اختلف فی محدث انغمس فی بئر الخ للاغتسال لانه لوکان للاغتسال صار مستعملا اتفاقا الخ اوپه دلیل ددې قول دشرح منیه په باب الانجاس کی: لو اخذ الجنب الماء بفمه لا یبقی طهورا قال قاضی خان هو الصحیح، بیا په حق دصبي کی راوړی: فان توضأ به ناویا المختار انه یصیر مستعملا، په دی ټولو اقوالوکی قید دتساوی نسته اودا مفتی به ده پرطریقه دفتویٰ ولي چي الفاظ د: اتفاق، صحیح او مختار ورسره دی په دي کی باید څه وکړی؟

جواب: په دی ځای کی چی قید دتساوی نوشته دی دا بل قول دی اوحکم په استعمال دټولو اوبو بل قول دی ، نو مبنٰی دقولینو مختلف ده صحیح همداده چی که مستعملی اوبه دنیمایی څخه کمی وی نو دهغو څخه اودس کول جائزدی ([3]). فقط

دماهي په ګندګی حوض نه پلیتیږی: **سوال**: (۱۴۸) اذا وقع فی حوض الکبیر خرء السمك علی کثرة فیجوز التوضی به ام لا؟ وهل یتنجس منه الثیاب والماء ام لا ؟

جواب: لا یتنجس منه الماء والثوب ویجوز التوضی بالماء الذی وقع فیه ([4]). فقط

([1]) المطر مادام یمطر فله حکم الجریان حتی لو اصاب بالعذرات علی السطح ثم اصاب ثوبا لاینجس (عالمګیري کشوري باب المیاه ج۱ ص۱۵، ط. ماجدیة ج۱ ص۱۷). ظفیر

([2]) لا أی لا ینجس لو تغیر بطول مکث فلو علم نتنه بنجاسة لم یجز (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه قبیل مطلب في ان التوضی من الحوض افضل الخ). ظفیر

([3]) کمستعمل فبالأجزاء بأن کان المطلق أکثر من النصف جاز التطهیر بالکل وإلا لا (درمختار) ای وإن لم یکن المطلق أکثر بأن کان اقل او مساویا لا یجوز (رد المحتار باب المیاه قبیل مطلب فی مسئلة الوضوء عن الفساقي ص۱۲۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفیر =

هغه تالاب چې په هغه کې ګندګي وي چې هغه ډک سي او دهغه څخه اوبه وبهيږي نو ددي اوبه پاکي دي: **سوال**: (۱۴۹) زموږ دکلي تالاب په باراني اوبو ډك سوی دی مګر دهغه دډکيدو طريقه اوکيفيت دادی چې نوموړی تالاب لوی تالاب دی اوهغه دناپاکی څخه ډك سوی وی يعنی دانسانانو او دحيوانانو دمنيو اوغائطو څخه ډك سوی وی بيا دډير باران دوجه څخه دکښتونو پاکی اوبه هم دی تالاب ته راځی مګر تالاب ډك سو خو اوبه نه دی ورڅخه بهيدلی خواوس په دی تالاب کی په ظاهره دناپاکی کم صفت نسته بلکه اوبه پاکی دی نودغه اوبه پاکی دی اوکه نه؟ اوپه دی باندی غسل او اودس کول صحيح دی اوکه نه؟

جواب: مسئله داده لکه څرنګه چې دفقهی په ټولو کتابونو کی ذکر سوی ده چې ډيري اوبه لکه لس په لس کی حوض يا ددی په اندازه تالاب که په دی کی نجاست ولويږی نوذکر سوی حوض نه پليتيږی چې ترڅو په دی کی دنجاست دصفاتو څخه يو صفت نه وی راغلی او وصف يی نه وی بدل سوی اولکه څرنګه چې ددی تالاب اوبه صافی دی اودنجاست اثر نه پکښی معلوميږی نودغه اوبه پاکی دی او اودس اوغسل په دی اوبو صحيح اودرست دی کما فی الدرالمختار وکذا يجوز براکد کثير کذلك ای وقع فيه نجس لم ير اثره الخ ای من طعم اولون اوريح شامی (۱). فقط

که په ناپاکه اوبوکی نوری اوبه ګډې سی او دناپاکی هيڅ اثر پکښی نه وی نو ددی څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۱/۱۵۰) ماچی داوبو دمسئلې په باره کی کم تحقيق کړی دی نوماته ددی صافه اوښکاره خلاصه معلومه نه سوه تاسو ليکلی دی چې که لس په لسه اوبو کی نجاست ولويږي نوهغه نه پليتيږی ترڅو چې په دي کی يو صفت نه وی بدل سوی مګر ما داجواب نه دی غوښتی بلکه ما داليکلی وه چې دا دمخکی څخه ناپاك وو او ديته ناپاکی اوپاکی اوبه دواړي راځی او ددی دډکيدلو څخه وروسته يوصفت پکښی پيدا نه سی نودا اوبه څنګه دی لکه چې په يولس په لس حوض کی لږ اوبه وی چې دلپی په ډکولوسره يې ځمکه ښکاره کيږی دومره اوبه پکښی موجودی وي چې بيا په هغه کی ناپاکی ولويدله او دلږوالی دوجه څخه دنجاست په لويدلو سره نوموړی اوبه نجسی ګرځيدی بيا وروسته هغی ته نوری اوبه راغلی اوس هغه اوبه لس په لسه ته ورسيږی بلکه ددی څخه هم ډيری سی اوپه دي کی يو صفت هم نه وی بلکه دمخکی څخه په دي

(۴) ويجوز رفع الحدث بما ذکر وان مات فيه ای فی الماء ولو قليلا غير دموی الخ ومائي مولد الخ کسمك (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المياه ص۱۷۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۷۹). ظفير

(۱) ردالمحتار باب المياه ص۱۷۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۰. ظفير

کی یو صفت نه وی اوپه پلیتو اوبوکی پاکی اوبه راغلی اولس په لسه کی سویدی نودا پاکی دی اوکه ناپاکه؟

دناپاکه ځاه څخه یی اوبه وایستلی او هغه وبهیدلی اوجمع سوی: **سوال:** (۱۵۰۱۲) یوځاه پلیت اونجس سو نو دهغه څخه یی اوبه وایستلی هغه اوبه لس ګزه وبهیدلی اوهلته جمعه سوی نودا پاکی دی اوکه ناپاکه ؟

جواب: (۱ – ۲) په در مختار کی دی: ثم المختار طهارة المتنجس بمجرد جريانه وكذا البير والحوض والحمام الخ باب المياه ([1]) وفي ردالمحتار للشامي ص۱۲۲ ج۱: وكذا ايده سيدي عبد الغني بما في عمدة المفتي من أن الماء الجاري يطهر بعضه بعضا وبما في الفتح وغيره من أن الماء النجس إذا دخل على ماء الحوض الكبير لا ينجسه لو كان غالبا على ماء الحوض ([2]) ددی دوهم روایت څخه داولی مسئلی جواب واضح سو چی ناپاکی اوبه حوض کبیر نه پلیتوی او دحوض او تالاب دمخکی څخه پلیتیدل دنجاست دتغیر څخه بغیر دمنلو وړ نه ده او دلومړنیو روایتونو څخه ددویم مسئلې جواب واضح سو (چی هغه اوبه پاکی دی. ظفیر) اوفقهاء کرامو داوبو په باره کی دآسانی حکم غوره کړی دی او دعموم بلوی لحاظ یی کړی دی: قال الله تعالى ليس عليكم في الدين من حرج ([3]) او دفقه قاعده ده چی: المشقة تجلب التيسير ([4])، او: اليقين لايزول بالشك ([5])، مقصد دادی چی داوبوپه معامله کی وهم اوشك ته ځای ورکول نه دی په کار نوپه کم تالاب یا حوض کی چی اوبه صفا وی او دنجاست دوجه څخه بدلی سوی نه وی نوباید پاکی وګڼل سی او وهم ونه کړل سی. فقط

داسی تالاب چی په ګرمی کی وچ وی اوخلګ په دی کی قضاء حاجت کوی اوپه باران کی ډک سی نو ددی اوبه پاکی دی اوکه نه؟ **سوال:** (۱۵۱) دیوې لویې اندازه ډیر پراخه تالاب دی کم چی دبارانونو په موسم کی داوبو څخه ډکیږی او دګرمی په موسم کی وچیږی اوخلګ پکښی قضاء حاجت کوی اودحیوانانو خوشیان اوخرشنه هم پکښی لویږی چی په هغه سره ټول تالاب پلیتیږی اودغه تالاب کلی ته نژدی دی نوکله چی باران اوری نوټولی اوبه مذکوره تالاب ته راځی او دکښتونو پاکی اوبه هم دی تالاب ته راځی مګر

([1]) الدرالمختارعلى هامش ردالمحتارباب المياه مطلب يطهر الحوض بمجردالجريان ص۱۸۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۵. ظ

([2]) ردالمحتار باب المياه مطلب الاصح أنه لا يشترط في الجريان المدد ص۱۷۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۸. ظفير

([3]) سورة الحج ركوع ۱۷. ظفير

([4]) الاشباه والنظائر مع شرح حموي القاعدة الرابع ص۹۵. ظفير

([5]) الاشباه والنظائر مع شرح حموي القاعدة الثالثة ص۷۵. ظفير

په نومورې تالاب کی دنجاست کم اثر نه معلومیږی اویو صفت هم نه وی بدل سوی نوددغه تالاب اوبه پاکی دی اوکه نه؟ اوپه دی باندی اودس وغیره صحیح دی اوکه نه ؟

جواب: په در مختار کی دی: وكذا يجوز براكد كثير كذالك اى وقع فيه نجس لم ير اثره ولو فى موضع وقوع المرئية الخ اوپه رد المحتار کی دی: قوله: وقع فيه نجس شمل ما لو كان النجس غالبا ولذا قال في الخلاصة الماء النجس إذا دخل الحوض الكبير لا ينجس الحوض وإن كان النجس غالبا على ماء الحوض [1] الخ اوپر دی ځای علامه شامي رحمه الله په اخر کی داحدیث پاك نقل کړی دی: ويشهد له ما فى سنن ابن ماجه عن جابر (رض) انتهيت إلى غدير فإذا فيه حمار ميت فكففنا عنه حتى انتهى إلينا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: إن الماء لا ينجسه شيء فاستقينا وأروينا وحملنا الخ ص۱۲۸ شامي [2] جلداول، ددغه روایتونو څخه معلومه سوه چی دمذکوره تالاب اوبه پاکی دی او اودس وغیره په دی باندی صحیح دی اولکه څنګه چی داوبو په باره کی حضرت رسول اکرم ﷺ دآسانی حکم کړی اوفقهاء کرامو دعموم بلوٰی لحاظ کړی دی او ویلي يې دی چی په دي کی وسعت اوفراخی ده نو همداسی کول په کاردی اوباید پر خلګو سختی اوتنګی رانه وستل سی خپله خوښه یې ده احتیاط دي وکړی مګر په عمومی ډول دنجاست حکم دي نه پر کوی اوکه نه وي نوباید ټولو تالابونو ته دډکیدلو څخه وروسته نجس وویل سی اوچی په دې کی کمه سختی اوحرج دی هغه خوپه ډاګه دی اوحال داچی حق تعالٰی جل جلاله فرمایی: ليس عليكم فى الدين من حرج [3]. فقط

<u>**دقلتین حدیث پاک او دهغه څخه جواب**</u>: **سوال**: (۱۵۲) وایی چی ټولی اوبه پاکی دی اګرکه نجاست پکښی ولویږی خو چی خوند اورنګ یی بدل نه سی اوپه دلیل کی دقلتینو حدیث پاك پیش کوی او داوبو سره دجاری اودغیرِ جاری قید نه لګوی؟

جواب: داوبو بحث او دقلتینو تحقیق په کتاب ایضاح الادلة کی په تفصیلي ډول سره سوی دی [4] چی په هغه سره ټول شکونه اوشبهات لیری کیږی [5]. فقط

<u>**که په تالاب کی چرمښکی ولویږي اومړه سی نوڅه حکم لري؟**</u> **سوال**: (۱۵۳) دجومات په تالاب کی چرمښکی لویدلی وه اومړه سوی وه په دی باندی به خلګوغسلونه او اودسونه

---

(۱) ردالمحتار باب المياه ص۱۷۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۱. ظفير

(۲) ردالمحتار باب المياه ص۱۷۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۱. ظفير

(۳) سورة الحج ركوع : ۱۷. ظفير

(۴) ايضاح الأدلة مصنفه شيخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب رحمه الله. ظفير

(۵) وفى البدائع عن ابن المديني لايثبت حديث القلتين فبطل الإستدلال به على المراد (غنية المستملي ص۹۴).

کول خو چې کله په اوبوکې بدبويي پيدا سوه نودا معامله څرګنده سوه نودغه تالاب پليت دی اوکه نه اولمونځ کوونکو چې ددی ځخه په کمو اودسونو لمونځونه کړی دی هغه صحيح دی اوکه نه دوباره کول يې په کار دی؟

جواب: چرمښکی که چيري کوچنۍ وی اوپه دي کی دوينی بهيدل نه وی لکه څنګه چې په عام ډول په کورونو کی وی نوکه داپه اوبوکی مړه سی اوبه نه پليتوی نو دهمدی وجه څخه داودس اودلمانځه ددوباره کولو ضرورت نه سته ([1]). فقط

په ګندګيو دککړ مشک اوبه پاکی دي اوکه ناپاکي؟ سوال: (۱۵۴) کله چې په حمام کی مشکيان اوبه اچوی نوپه مشک کی چې کمه ګندګي خاوره وغيره لګيدلی وی نوهغه هم په اوبوکی لويږی موږ په خپلو سترګو داليدلی دی نودغه اوبه پاکی دی اوکه نه؟ اوپه دی اودس اوغسل کول صحيح دی اوکه نه؟

جواب: چي هروخت وليدل سی چې نجاست دحمام په اوبوکی سته نوپه دغه اوبو اودس اوغسل کول نه دی په کار خو هميشه بايد داسی وهم ونه سی ([2]). فقط

پرعموم بلوٰی فتوٰی او ددی حد: **سوال**: (۱۵۵) دعموم بلوی دوجه څخه په: الماء طهور لاينجسه شيء باندی فتوی ورکول ناروا دی اوکه روا؟ او دعموم بلوی حد ترکمه ځايه دی؟

جواب: عموم بلوٰی دعامو خلګو اخته کيدلو او ابتلاء ته وايي چې دهغه څخه دځان ساتل اوبچ کول سخت کاروی او ددې څخه په ځان ساتلو کی خلګ په تنګی اوحرج کی واقع کيږی او همدارنګه دفقه قاعده ده چې (اليقين لا يزول بالشك) ([3]) نو دهمدی وجه څخه بايد يوازي دوهم داحتمال اودشك په صورت کی پراوبو دنجاست حکم ونه سی او دعموم بلوٰی دوجه: الماء طهور لا ينجسه ([4]) شيء معمول به جوړول روا دی. فقط

هغه لوی تالاب چې دګرمی په موسم کی دهغه اوبه خرابي سی او ديخنی په موسم کی ډک سی نو ددي څه حکم دی؟ سوال: (۱۵۶) يوډنډ چې دکلی سره پيوست دی چې په درو خواو کی يې دکلی دباران اوبۀ راجمع کيږی چې اوړدوالی او پلنوالی يې شپيته او

([1]) وموت ما ليس له دم سائل لا ينجس الماء ولا غيره إذا وقع فيه مات او مات ثم وقع فيه (غنية المستملي ص۱۲۲) وكالحية البرية والوزغة لو كبيرة لها دم سائل (ردالمحتار باب المياه ص۱۷۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۵). ظفير

([2]) لو أدخل الصبي يده في الإناء إن علم انها طاهرة بان كان معه من يراقبه جاز التوضي بذلك الماء وإن علم ان فيها نجاسة لم يجز وإن حصل الشك لا يتوضأ به استحسانا الخ ولو توضأ به جاز لانه لا يتنجس بالشك (غنية المستملي ص۱۰۱). ظفير

([3]) الأشباه والنظائر مع شرح حموي ص۷۵. ظفير

([4]) مشكوة باب المياه ص۵۱. ظفير

ژوروالی یی دری گزه دی په رنگ اوبوی کی هیڅ فرق نه وی مگر دگرمی په موسم کی چی کله اوبه کمی سی نو داوبو رنگ بدل سی اوبد بویه هم سی نودغه اوبه پاکی دی اوکه نه ؟

جواب: چی ترکمه وخته پوری په دی تالاب کی اوبه دنجاست دوجه څخه بدبویه وغیره سوی نه وی اوصفا وی نوتر هغه وخته دغه اوبه پاکی دی (١). فقط

دټانکی په اوبو اودس جائز دی: **سوال**: (١٥٧) دټانکی په اوبو اودس روا دی اوکه نه؟

جواب: روا دی. فقط

هغه اوبه چی په هغو کی افیوم یا چرس اوبنگي گډی سی څه حکم لری؟ **سوال**: (١٥٨) افیوم، بنگي چرس او تمباکو پاك دی اوکه نجس؟ اوکه چیري په اوبوکی مذکوره شیان گډ سی نوپه دغه اوبو غسل او اودس روا دی اوکه نه؟

جواب: افیوم بنگي اوچرس اوداسی نور نجس نه دی بلکه ددی خوړل او څیښل حرام دی او دتداوی په خاطر یې ددومره اندازی خوراك روا دی چی دنشی حدته ونه رسیږی کما في الشامی: ولم یقل احد بنجاسة البنج ونحوه الخ ص٢٢ جلد٣. فقط

په کمه لوټه کی چی مسواک واچول سی نودهغی په اوبو دکراهت څخه بغیر اودس کول جائزدي: **سوال**: (١٥٩) که چیري مسواك داودس کوونکی په لوټه کی واچول سی اومقصد یې داوی چی مسواك لوند سی نوکه په دغه اوبو اودس وکړی ایا په دي کی کراهت سته اوکه نه ؟

جواب: په دی اوبوکی هیڅ کراهت نسته خوغوره داده چی مسواك په اوبو ومینځی اونرم یی کړی په لوټه کی یی داچولو ضرورت نسته (٢). فقط

که داوبو سره پاک شي یوځای سی او اوبه مغلوبی سی نوپه دی سره اودس کول روا دی اوکه نه؟ **سوال**: (١٦٠) که په مطلقو اوبو کی پاك شی گډ سی اودغه پاك شی غالب سی یعنی رنگ اوخوند یې بدل سی نوپه دغه اوبو اودس کول روا دی اوکه نه ؟

جواب: په اوبوکی که چیري پاك شی گډ سی اواوبه **مغلوبی** سی او داوبو نوم باقی پاته نه سی اویا داوبو رنگ اوخوند باقی نه سی نوپه دغه اوبو اودس کول روا نه دی اوددی

---

(١) وکذا یجوز براکد کثیر کذلك، أی وقع فیه نجس لم یر أثره ولو فی موضع وقوع به یفتي (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج١ ص١٧٢، ط.س. ج١ ص١٩٠) قوله لم یر اثره ای من طعم او لون او ریح (ایضا، ط.س. ج١ ص١٩١). ظفیر

(٢) والسواك سنة مؤکدة الخ بمیاه ثلاثة (درمختار) بان یبله فی کل مرة (ردالمحتار سنن الوضوء ص١٠٥ ج١، ط.س. ج١ ص١١٣). ظفیر

تفصيل ددرمختار په دی عبارت کی دی: ولا بماء مغلوب بشيء طاهر الغلبة اما بكمال الامتزاج يتشرب نبات او بطيخ بما لا يقصد به التنظيف الخ (درمختار) قوله: بما لا يقصد به المبالغة في النظافة كالاشنان ونحوه فانه لايضر ما لم يغلب عليه فيصير كالسويق المخلوط [۱] او بياپه درمختار کی دی: ما لم يزل الاسم ای فاذا زال الاسم لا يجوز به الوضوء والغسل وان بقي على رقته [۲] اوبيا مخ ته ليکی: ومثله الزعفران اذا خالط الماء وصار بحيث يصبغ به فليس بماء مطلق [۳]. فقط

دکندو وغيره داوبو استعمالول څنګه دی؟ سوال: (۱۲۱) په کم ځای کی چی کوهيان اوڅاه ګان نه وی يوازي په کندو او تالابونو کی دباران اودنهر بدبويه اوبه پيدا کيږی نو ددی څيښل اوپه دی اودس اوغسل کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: ذکر سوی اوبه چی کله لس په لسه کی وی يا ددی څخه زياتی وی اوپه ښکاره ډول ددی بدبويی دنجاست دوجه څخه وی نوپه دغه اوبو غسل او اودس او ددی څښل جائز دی [۴]. فقط

که تازه اوبه موجودی وی نو دچاتيی په اوبو اودس روا دی: سوال: (۱۲۲) په هر هغه وخت کی چی تازه اوصافی اوبه پيدا کيږی نو دچاتيی دبدبويه اوبو څيښل اوپه هغو اودس وغيره کول روا دی اوکه نه؟

جواب: چی کله ددغه چاتيی اوبه پاکی وی او بدبوی يی دنجاست دلويدلو دوجه نه وی نو ددی څښل اوپه دی اودس کول صحيح دی [۵]. فقط

داستنجاء څخه په پاته سوو اوبو اودس روا دی: سوال: (۱۲۳) هغه اوبه چی داستنجاء څخه پاته سی نوپه هغو اودس روا دی اوکه نه؟

جواب: صحيح دی [۶]. فقط

ناپاکه تالاب چی دباران څخه ډک سی نوپاک سو:سوال: (۱۲۴\۱) په تالاب کی ناپاکه اوبه

---

[۱] رد المحتار باب المياه ص۱۲۷ – ۱۲۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۱. ظفير

[۲] ايضا ص۱۲۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۱. ظفير

[۳] أيضا، ط.س. ج۱ ص۱۸۱. ظفير

[۴] لا لو تغير بطول مكث فلو علم نتنه بنجاسة لم يجز ولو شك فالأصل الطهارة (درمختار) قوله لا لو تغير أي لا يتنجس لو تغير (ردالمحتار باب المياه ص۱۷۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفير

[۵] أما القليل فينجس وإن لم يتغير خلافا لمالك لا لو تغير بطول مكث (درمختار) أي لا ينجس لو تغير (رد المحتار باب المياه ص۱۷۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۵). ظفير

[۶] وينزل عليكم من السماء ماءًا ليطهركم به دل بعبارته على كون ماء المطر مطهر او بدلالته على كون سائر المياه المطلقة مثله مطهرة ما لم يعرض لها عارض يزيل ذلك الحكم عنها (كبيري ص۸۲). ظفير

سته باران وسو او دپورته خوا څخه پاکی اوبه راغلی او ناپاکه اوبه چی دتالاب په یوه خوا کی وی دتالاب بلی خواته ولاړی بیا داوبو دډیروالی دوجه څخه دغه تالاب ډك سو خو لږ څه اوبه هم دتالاب څخه ونه بهیدلی نودغه اوبه پاکی دی اوکه نه؟

دشامی دیوه عبارت مقصد: **سوال**: (۱۲\۱۷۵) دشامی ددی لاندی ذکر سوی عبارت څه مطلب دی: بان یدخل من جانب ویخرج من اخر حال دخوله وان قل الخارج قال ابن الشحنة لانه صار جاريًا حقيقة وبخروج بعضه وقع الشك فى بقاء النجاسة الخ؟

جواب: ۱: هغه اوبه پاکی سوی.

۲: دشامی دغه عبارت ددرمختار ددی قول شرح ده: ثم المختار طهارة المتنجس بمجرد جريانه، قوله بمجرد جريانه ای بان يدخل من جانب ويخرج من اخر (۱) چی ددی مطلب دادی چی دیوه طرف څخه اوبه راننوزی اوپه همدغه وخت کی دبلی خوا څخه اوبه ووزی اګرکه وتونکی اوبه کمی وی ابن شحنه فرمایی چی ددی اوبو دپاکیدلو وجه داده چی دا اوبه جاری سوی حقیقةً او دبعضو ناپاکو اوبو په وتلو سره دنجاست په باقی پاته کیدلو کی شك سو نودشك دوجه څخه دنجاست دباقی پاته کیدلو حکم باید ونه سی. فقط

دویم فصل : دحوض او دتالاب سره متعلق مسائل

هغه حوض چی دلس په لس څخه کم وی په هغه اودس روا دی: **سوال**: (۱۲۶) دلته ټول خلګ شافعی مذهبه دی نو دهمدی وجه څخه دلته په ډیرو جوماتونو کی حوضونه دلس په لسه څخه کم دی نو په دی حوضونو کی دحنفی اودس جائز دی اوکه نه؟ اوکه صحیح نه وی نوبیا په شافعی پسی دحنفی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: په دی حوضونو کی اودس کول صحیح دی (۲) اوپه شافعی المذهب پسی لمونځ کول جائز دی (۳). فقط

دجومات دحوض اوږدوالی اوپلنوالی څومره په کاردی اوپه دی باره کی څه اختلاف دی؟

سوال: (۱۲۷\۱) داوداسه دپاره دجومات حوض څومره اوږد اوڅومره پلن اوڅومره ژور په کاردی ؟

---

(۱) وګوری: ردالمحتار مع هامشه ص۱۸۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۵ مطلب يطهر الحوض بمجرد الجريان. ظفير

(۲) کمستعمل فبالأجزاء فان المطلق اكثر من النصف جاز التطهير بالكل وإلا لا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المياه ص۱۲۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۱) نو معلومه سوه چي مستعملي اوبه کمي چي په لږ مقدار کي پيدا کيږي په هغو سره به حوض نه پليتيږي. ظفير

(۳) وكذا تكره خلف أمرد الخ ومن أم بأجرة وزاد إبن مالك ومخالف كشافعي لكن في وتر البحر أن يتقن المراعاة لم يكره اوعدمها لم يصح وإذ شك كره (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص۵۲۲، ط.س. ج۱ ص۱۲۲). ظفير

سوال: (۱۲۸\۲) دحوض په دغه مسئله کی یو حدیث پاك راغلی دی اوکه نه؟ (۳) دائمه اربعهؤ رحمهم الله په دی باره کی څه اختلاف دی؟

جواب: (۱ – ۳) دامام مالك، امام شافعی او وغیره رحمهم الله په نزد ددی په باره کی ډیر وسعت دی نودکوچنی حوض اوبوته هم پاکی وایی اوپه دی غسل او اودس روا ګڼی البته امام اعظم رحمه الله ددی په باره کی ډیر احتیاط څخه کار اخیستی دی، هغه فرمایی چی هغه حوض باید دلس په لس کي څخه کم نه وی یعنی لس ګزه پلن اولس ګزه اوږد اودګز څخه شرعی ګز مراد دی کم چي دنن وخت ګز ته تر لس ګرِي نژدې وي، نوپه اوسني ګز که شپږ نیم یا اوه ګزه پلنوالی او اوږدوالی دحوض وي هغه لس په لس کي دی دهغه څخه اودس او غسل دواړه جائز دی (۱) اودا صدرالشریعة رحمه الله په حدیث د: من حفر بئرا فله حوله اربعون ذراعًا (۲) سره ثابته کړیده، په هرصورت دا اتفاقی خبره ده چی دومره لوی حوض دټولو امامانو په نزد پاك دی بلکه نور ائمه ددې څخه کم حوض ته هم پاك وایی. فقط

دمدور (ګرد) حوض قُطر څومره په کاردی؟ سوال: (۱۲۹\۱) داودس کولو دپاره ددائره شکله حوض قُطر لږ تر لږه څو فته په کاردی؟

پنځلس فُته قطر لرونکی مدور حوض کافی دی اوکه نه؟ سوال: (۱۷۰\۲) هغه حوض چی دننه قطر یی پنځلس فته وی نو پردغه حوض دلس په لس کي حوض اطلاق کیدی سي اوکه نه؟

دحوض ژوروالي باید څومره وي؟ سوال: (۱۷۱\۳) دحوض ژوروالی باید څومره وی؟

جواب: (۱ – ۳) په درمختار کی دی چی دمدور حوض دور ۳۲ ذراعه اوقطر ۱۱ ذراعه او یو پر پنځه (۵\۱۱) ذراعه کافی دی یعنی پاؤ باندی یوولس ګزه ته نژدی قطر لرونکی حوض لس په لس حوض کیدای سی اویو ذراع اوه قبضی وی کم چی دنن سبا دګز تقریبا لس ګرِي جوړیږي، نو دنن سبا دګز په حساب دمدور حوض قطر تقریبا اوه نیم ګزه په کاردی کم چی غالبا یو ویشت فته جوړیږی (۳) او دژوروالی یی څه اعتبار نسته: اذالمعتمد

(۱) ولا بماء راکد وقع فیه نجس إلا إذا کان عشرة اذرع فی عشرة اذرع لا ینحسر ارضه بالغرف فحکمه حکم الماء الجاري الخ وإنما قدر به بناء علی قوله علیه السلام من حفر بئرا فله حولها اربعون ذراعا (شرح وقایه کتاب الطهارة ج۱ ص۸۲ – ۸۷) هذا حدیث أخرجه احمد من حدیث ابی هریرة وإبن ماجه والطبراني من حدیث عبدالله بن المغفل الخ (عمدة الرعایة حاشیه شرح وقایه ص۸۷ ج۱). ظفیر

(۲) شرح وقایه کتاب الطهارة ص۸۷ ج۱. ظفیر

(۳) ای فی المربع باربعین وفی المدور بستتة وثلاثین وفی المثلث من کل جانب خمسة عشر وربعا وخمسا =

عدم اعتبار العمق در مختار (۱). فقط

په کم پائپ کې چې اوبه راځي که چيري په هماغه پائپ سره دحوض اوبه وايستل سي نوڅه حکم لري؟ **سوال**: (۱۷۲) که چيري داودسونو ديوه حوض دډکولو دپاره په ځمکه کې داوسپنې يو پائپ دارهږ ځخه راتير سوی وی او حوض په ډکيږي، اوس که چيري ځوك دهمدغه حوض اوبه خارجول وغواړي او دهمدغه پائپ په ذريعه يې خارجي کړي يعنې هغه اوبه کمې چې په حوض کې داودس ځخه وروسته پاته سوي دي آيا په دې کې کم شرعي عيب سته يعنې کراهت خو به نه پکښې راځي؟

جواب: هغه اوبه پاکې دي (۲). فقط

که چيري ديوه حوض دکيندلو په وخت کې دورستو او خرابو هډوکو شک وي نوبيا بايد څه وسي؟ **سوال**: (۱۷۳) دې کلې ته نژدې يوجومات دی چې نژدې دوه سوه پنځه شپيته ۲۲۵ يې کاله کيږي اودجامع جومات په نوم يادېږي ددې جومات دحويلې دديوالونو خواوې په تيرو اوکاڼو پخې سويدې کله کله لمونځ کوونکي په جومات کې نه ځاييږي په دې صحن اوانګړ کې ودريږي ځوکاله وسوه چې مسلمانانو نيمايي انګړ په کاڼو فرش کړی اوپوخ چت يې هم په جومات کې داخل کړی دی اولمونځ کوونکي پکښې په اسانی سره لمونځ کولای سي او ددې حويلې په جنوب خواکې يې يولوی حوض جوړ کړيدی دحوض دکيندلو په وخت کې دحوض په لاندې حصه کې يوقسم جلا خاوره وليدل سوه چې بعضې خلګ وايي چې دا وراسته سوي هډوکې دي بالاخره مذکوره خاوره په بل ځای کې ښخه کړل سوه نوپه دې حوض کې اودس کول صحيح دي اوکه نه؟ اوپر هغه چاچې دالوی کاريې کړی دی تهمت لګول اوتورلګول اوهغه ته په سپك نظرکتل دشرعي لخوا څه حکم لري؟

= بذراع الكرباس ولو كان له طول لاعرض لكنه يبلغ عشر في عشر جاز تيسرا الخ والمختار ذراع الكرباس وهو سبع قبضات فقط الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المياه ص۱۷۸ – ۱۸۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۳). ظفير

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۸۲، ط.س. ج۱ ص۱۹۷، دهدايي صاحب ليکلي دي چې دومره به ژور وي چې په لپه سره اوبه ورڅخه پورته کړل سي نو مځکه يې ښکاره نه سي: والمعتبر في العمق أن يكون بحال لاينحسر بالإغتراف هو الصحيح (هدايه باب المياه ج۱ ص۴۲) ددرمختار دعبارت ما حصل دادي چې صرف دعمق اعتبار نسته چې الفاظ يې دادي: إذا المعتمد عدم إعتبار العمق وحده (وګوری الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المياه ص۱۸۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۷). ظفير

(۲) دحوض پاته اوبه پاکې دي ځکه که هغه حوض لس په لس کې نه وي نو بيا هم دلږ ډيرو مستعملو اوبو په ورلويدلو سره ناپاکه نه سو كماء مستعمل فبالأجزاء فان كان المطلق اكثر من النصف جاز التطهير بالكل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۲۸، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفير

جواب: په دی حوض کی اودس کول روا دی اوکه داهم ثابت سی چی دغه خاوره دورستو هډوکو ده بیاهم دحوض جوړول پردی ځای باندی صحیح دی اوچی هدیره موقوفه ده هغه په دی نه ثابتیږی او ددغه حوض پرجوړونکو مسلمانانو باندی بدګمانی کول حرام اوناروا دی اودمسلمان دنیکی اودخیر کار پرریا حمل کول پرمسلمان بدګمانی کول دی اودا په قطعی نصوصو حرام دی: قال الله تعالی: یا ایها الذین امنوا اجتنبوا کثیرا من الظن ان بعض الظن اثم ([1]) وقال علیه الصلاة والسّلام انما الاعمال بالنیات ولکل امرء ما نویٰ ([2]) الخ قال في الدر المختار کما جاز زرعه والبناء علیه اذا بلی وصار توابا، زیلعي ([3]). فقط

که په لس په لسه ځاه کی ناپاکي اوبه واچول سی نو اودس په روا دی اوکه نه؟ سوال: (۱۷۴\۱) که په لس په لسه حوض کی که یو لاس یا ددي څخه هم زیاتي اوبه وی نوکه چیري په داسی حالت کی دیوه ناپاکه ځاه څخه اوبه را وایستل سی او دغه حوض په ډك کړل سی نو دغه حوض پاك دی اوکه ناپاك؟

لس په لسه کی حوض: **سوال**: (۱۷۵\۲) که چیري په دې قیاس چی لس په لسه کی حوض ددریاب په حکم کی دی او دنجس او ناپاك شی په لویدلو سره نه پلیتیږی عمل وسی نوباید څه وسی؟

جواب: پاك دی ([4]). فقط

که چیری دلس په لس کي څخه کم حوض وی اوماشوم متیازی پکښی وکړی: **سوال**: (۱۷۶) کم حوض چی دعشرًا فی عشرٍ څخه کم وی او دهغه ژوروالی څلور یاپنځه لویشتی وی نوکه چیري په دي کی یو ماشوم متیازی وکړی یا بل نجاست پکښي ولویږي نو دغه حوض داحنافو په نزد پاك دی اوکه نه؟

جواب: دعشراً فی عشرٍ روایت چی داصحابِ متونو مختار او داهل ترجیح لکه صاحب دهدایی، قاضی خان وغیره په نزد مرجح دی، په دې ذکر سوی حوض کي چی دلس په لس کي څخه کم دی نو دنجاست په لویدلو پلیتیږی او دژوروالی اعتبار نه سته (یعنی یوازي دژوروالی اعتبار نسته. ظفیر) کما في الدرالمختار اذ المعتبر عدم اعتبار العمق

([1]) الحجرات ، رکوع: ۲. ظفیر

([2]) مشکوٰة المصابیح قبیل کتاب الإیمان. ظفیر

([3]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة الجنائز ص۸۴۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۳۸. ظفیر

([4]) ولابماء راکد وقع فیه نجس إلا إذا کان عشرة اذرع فی عشرة اذرع ولا ینحسر ارضه بالغرف فحکمه حکم الماء الجاري (شرح وقایه کتاب الطهارة ص۸۲ ج۱). ظفیر

(۱) وفي ردالمحتار ولايخفى ان المتاخرين الذين افتوا بالعشر كصاحب الهداية وقاضي خان وغيرهما من اهل الترجيح هم اعلم بالمذهب منا فعلينا اتباعهم الخ. (۲) فقط

هغه حوض چې لس په لسه کې وي او سر يې پټ سوی وي اونجاست پکښې ولويږي نوڅه حکم لري؟ سوال: (۱۷۷) که چيري يوحوض لس په لس کې اوږد اوپلن وي او دځلورو خواوو او سر څخه پټ سوی وي اوپه مينځ کې يې لږ څه ځای خلاص وي نو دداسی حوض په اوبو اودس کول صحيح دي اوکه نه؟ اوکه چيري په داسی حوض کې نجاست ولويږي نواودس پکښې صحيح دی اوکه نه ؟

جواب: ددی حوض په اوبو اودس جائز او صحيح دی که چيري ددی حوض دچت سره اوبه نه وی لګيدلی نو دنجاست په لويدلو ددی حوض اوبه نه پليتيږی اوپه دی باندی اودس روا دی (۳). فقط

دجاري حوض اوبه پاکی دي: **سوال**: (۱۷۸) زموږ په کلی کی یوه ګرمه چينه ده چی دځاه په شان ده چی ډيره ژوره ده مګر اوبه يی سرته رسيدلی دی ددی ګير چاپيره دری پاخه حوضونه جوړ سوی دی کم چی دلس په لسه څخه کم دی اودی دری واړو حوضونوته ددغه اصلی چينی څخه دتونل په زريعه شپه او ورځ اوبه ورځی او ددی دری حوضونو څخه هم دتونلونو په واسطه هروخت اوبه بيرته دباندي راوزی په دی حوضونو کی هروخت تقريبًا يوګز ژوری اوبه ولاړی وی او ددی حوضونو اوږدوالی اوپلنوالی ديوبل څخه بدل اومختلف دی مګر کوچنی حوض څلور ګزه پلن اوپنځه ګزه اوږد دی ددغه درو واړو حوضونو اوبه پاکی دی او دروانو اوبو په حکم کی دی او دلمبلو اوڅيښلو قابلي دی (۴). فقط

دحوض مقدار: **سوال**: (۱۷۹) هغه حوض چی دهغه اوږدوالی اوپلنوالی په عام ډول څلور اودری ګزه وی او ژروالی يی تقريبًا دوه ګزه وی اوډير وختونه تردی کوچنی حوضونه هم وی په بعضو ځايونوکی دوه حوضونه څنګ په څنګ هم وی په اولنی حوض کی جامی

---

(۱) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المياه قبيل مبحث الماء المستعمل ج۱ ص۱۸۲، ط.س. ج۱ ص۱۹۷. د (العمق) څخه وروسته د (وحده) لفظ هم سته. ظفير

(۲) رد المحتار باب المياه تحت قوله لكن فى النهر الخ ص۱۷۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۲. ظفير

(۳) وكذا يجوز براكد كثير كذلك أى وقع فيه نجس لم ير اثره (درمختار) اى من طعم او لون اوريح (ردالمحتار باب المياه ص۷۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۰). ظفير

(۴) والحقوا بالجاري حوض الحمام والماء نازلا والغرف متدارك كحوض صغير يدخله الماء من جانب ويخرج من اخر يجوز التوضئ من كل الجوانب مطلقا وبه يفتى (درمختار) أى سواء كان اربعا فى أربع او اكثر الخ (رد المحتار باب المياه ص۱۷۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۰). ظفير

ومينځی اوپه دويم کی يی دپاکی اوصفايی په خاطر اچوی او ننبتيځی يی مګر څرنګه چی زياتره جامی پليتی اونجسی وی اودهغو څاځکی په دويم حوض کی هم ولويږي نو دهم دی وجه دا احتمال دی چی ټولی اوبه شرعًا پليتی سی، نوپه داسی حوض کی کپړی اوجامی پاکيږی اوکه نه؟

جواب: داحنافو دمذهب موافق کوچنی حوض کم چی دلس په لسه څخه کم وی دنجاست په پريوتلو سره پليتيږی نو دهمدی وجه څخه داحنافو دمذهب موافق په کوچنی حوض کی که چيري پليتی اونجسی جامی وپريمنځل سی نوپه دی سره جامی نه پاکيږی ([1]) مګر دعموم بلوٰی اوپه هغه صورت کی چی ځان ساتل ممکن نه وی نودامام مالك وغيره دمذهب په نظر کی نيولو سره پر طهارت او پاکوالی فتوی ورکولای سی لکه څرنګه چی داوبو په باره کی دامام مالك (رح) دمذهب موافق اکثره عمل کيدونکی دی ([2]). فقط

هغه حوض چی دهغه اوږدوالی او پلنوالی اته ګزه وی په هغه کی اودس اوغسل صحيح دی اوکه نه او دشرعی ګز اندازه څومره ده؟ **سوال**: (۱۸۰) په ما لابد منه کی يی دډيرو اوبو (حوض کبير) مقدار دا ليکلی دی چی دکم حوض لس په لسه ګزه اوږدوالی او پلنوالی وی او يوګز ژور وی نو ددی اوبه دډيرو اوبو حکم لری په دی کی اودس روا دی او دمتاخرينو په نزد پرهمدی فتوٰی ده مګر موږ ددی وضاحت غواړو که چيري ديوحوض اوږدوالی اوپلنوالی صرف اته ګزه وی ياددی څخه لږ اوډير اودومره ژوروالی ولری څومره چی دلس په لسه کی حوض لری نو ددی حوض حکم دډيرو اوبو حکم لری اوکه نه؟ اوپه دی کی اودس او دجنابت غسل جائزدی اوکه نه؟ اودشرعی ګز اندازه دفټ او داينچ په حساب څومره په کار ده ؟

جواب: دمتاخرينو فقهاؤ دفتوٰی موافق طول اوعرض لس ګزه په کاردی او دژوروالی زياتوالی مفيد نه دی ژوروالی چی څومره وی لږ وی اوکه ډير هيڅ اعتبار نه لری اوږدوالی اوپلنوالی لس ګزه ضروری دی او دشرعی ګز اندازه دمروج يعنی دټوکر خرڅوونکو دګز په حساب دامعلومه سوی ده چی تقريبًا لس نيمی ګِيری وی کم چی دوه فُټه ياڅه کم دوه فټه کيږی ([3]). فقط

([1]) سئل عن فسقية صغيرة الخ أما إذا وقعت فيها نجاسة تنجست أصغرها (رد المحتار مطلب فی مسئلة الوضوء من الفساقي ص۲۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۵). ظفير

([2]) أما القليل فينجس وإن لم يتغير خلافا لمالك (درمختار) فان ما هو قليل عندنا لا ينجس عنده مالم يتغير والقليل ما تغير والكثير بخلافه (رد المحتار باب المياه ص۱۷۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفير

([3]) وإن التقدير بعشر فی عشر لايرجع إلی أصل يعتمد عليه ورد ما اجاب صدر الشريعة لكن فی النهر وأنت =

دریم فصل : دڅاه مسائل

که چیري دیو حیوان یوه حصه او برخه په څاه کی ولویږي نو اوبه یی څه حکم لري؟ سوال: (۱۸۱) دمړژګي یعني میتة مینا نیمه حصه یا بعضي حصه دهغې دټول بدن څخه جلا منقطع سوه اوپه څاه کی ولویده آیا ددی څاه ټولی اوبه باید وایستل سی اوکه نه په اندازه دناحلال سوی حیوان (مینا) چی مړسوی وی اوپړسیدلی نه وی؟ اوهمدارنګه خلګ په فتوی دبعضو علماؤ ددیرشو بوکو ایستلو څخه ددی څاه اوبه څیښنی اوخوراك پکښی پخوی اوخوری یی آیا داحلال دی اوکه حرام؟

جواب: په ذکر سوی صورت کی دڅاه دټولو اوبو ایستل لازم دی ترڅو پوری چی دغه اندازه اوبه ایستل سوی نه وی ددغو اوبو چیښل اوپه دی باندی طعام پخول ناجائز اوحرام دی: قال مولانا السید ابو السعود في حاشیة المسکین معزیا الی الحموي وقطعة الحیوان في الحکم کالحیوان المتفسخ انتهٰی، وقال في ردالمحتار لو وقع ذنب فأرة ینزح الماء کله بحر وبه ظهر أنه لو جرح الحیوان بلا تفسخ ونحوه ینزح الجمیع کما في الفتح وإن قطعة منه کتفسخه ولهذا قال في الخانیة: قطعة من لحم المیتة تفسده انتهٰی ما في الرد والمسئلة اظهر من الشمس، شامی ص۲۹۱ جلد نمبر اول، نوهغه چی بعضو علماؤ فتوٰی ورکړیده چی ددیرشو بوکو اوبه را ایستل ددی پاره پاکوالی دی اوپه استعمال کی دي راوړل سی، یوازي دروغ او دګیډي خبري دی او هسي هوا وړي خبری یی کړی دی، فقط والله تعالیٰ اعلم بالصواب.

دپاک څاه داوبو استعمال دحضرت امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد صحیح دی: سوال: (۱۸۲) حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله دڅاه داوبو استعمال روا ګڼلی دی اوکه نه؟

جواب: هغه څاه چی دشرعی قواعدو اوداصولو موافق پاك وی نو دهغه اوبه دخوراك او دڅیښاك او داودس او دلمانځه لپاره دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد جائز دی په ټولو فقهی کتابونوکی داوبو مسائل بیان سویدی (۱). فقط

که جنب څاه ته کښته سي یا دهغه پرغاړه ولامبی اوکه څاڅکی څاه ته ولویږي نو ددی څه حکم دی؟ سوال: (۱۸۳) که چیري یو جنب کس څاه ته کښته سی او یایی پرغاړه ولامبی او څاڅکی یی په څاه کی ولویږي نو اوبه یی څه حکم لري؟

= خبیر بأن إعتبار العشر أضبط ولا سیما فی حق من لا رأی له من العوام فلذا أفتی المتأخرون الأعلام أی فی المربع بأربعین الخ والمختار ذراع الکرباس وهو سبع قبضات الخ إذا المعتمد عدم اعتبار العمق وحده (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ص۱۷۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۲). ظفیر

(۱) یرفع الحدث مطلقا بماء مطلق وهو ما یتبادر عند الإطلاق کماء سماء وأودیة وعیون وآبار وبحار (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ص۱۲۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۷۹). ظفیر

جواب: په دی صورت کی دمذکوره څاه اوبه پاکی دی خو پاکوونکی نه دی یعنی مستعملی دی: قال الشامی فعلم ان المذهب المختار في هذه المسئلة ان الرجل طاهر والماء طاهر غير مطهر الخ (١) او دڅاڅکی په ورلویدلو دڅاه اوبه نه پلیتیږی (٢). فقط

که چیري په څاه کی مرغی ولویږی او وپړسیږی نو ددغه څاه اوبه څه حکم لري؟ سوال:
(١٨۴) که چیري په څاه کی مرغی یا داسی بل شی ولویږي او وپړسیږی او ورژیږی نو دغه ناپاك څاه به څنګه پاکیږی؟

جواب: ددری سوه بوکو په ایستلو دغه ناپاك څاه پاکیږی (٣). فقط

دحرامو مرغانو ګندګی چی په څاه کی ولویږی نو اوبه پلیتیږی اوکه نه؟ سوال: (١٨۵)
دحرامو مرغانو لکه دکارغه، ټپوس اوداسي نورو ګندګی که په څاه کی ولویږي نو اوبه به ناپاکه وی اوکه نه؟ اوکه چیري ناپاکه وی نوڅومره اوبه باید ورڅخه وایستل سی؟

جواب: دڅاه په باره کی فقهاؤ لیکلی دی چی دحرامو مرغانو په ګندګی څاه نه پلیتیږی: لتعذر صونها (۴) عنه، درمختار. فقط

دچرمښکی څه حکم دی؟ سوال: (١٨٦) په چرمښکی کی بهیدونکی وینه سته اوکه نه؟ اوکه چرمښکی په څاه کی ولویږي اومړه سی او وَرَسته سی نوڅه حکم لری؟

جواب: په چرمښکی کی بهیدونکی وینه موجوده نه ده ګڼل سوی البته که چیري رنګ یی بدل سوی وي لکه دکربوړی چی په هغه کی وینه بهیدونکی ده نو په هغه سره څاه نجس کیږی (۵) اوپه چرمښکی سره نه پلیتیږی (٦). فقط

---

(١) ردالمحتار باب المياه تحت قوله والأصح أنه طاهر ص١٨٧ ج١، ط.س. ج١ ص٢٠٢. ظفير

(٢) جنب إغتسل فانتضح من غسله شيء فی إنائه لم يفسد عليه الماء أما إذا كان يسيل منه سيلانا أفسده وكذا حوض الحمام على قول محمد رحمه الله لا يفسده ما لم يغلب يعنى لا يخرجه من الطهورية كذا فی الخلاصه (عالمگیري مصري باب ثالث فی المياه فصل ثاني ص٢٢ ج١، ط. ماجدية ج١ ص٢٣). ظفير

(٣) إذا وقعت نجاسة الخ فی بئر دون القدر الكثير الخ او مات فيها الخ حيوان دموي غير مائي وانتفخ او تمعط او تفسخ الخ ينزح كل مائها الخ وقيل يفتى بمأتين الى ثلث مائة وهذا أيسر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل في البئر ج١ ص١٩۴ - ١٩٨، ط.س. ج١ ص٢١١). ظفير

(۴) ولا نزح في بول فارة في الاصح ولا بخرء حمام وعصفور وكذا سباع طير في الاصح لتعذر صونها عنه (درمختار) قوله في الاصح راجع الى قوله وكذا سباع طير اى مما لا يؤكل لحمه من الطيور (ردالمحتار فصل في البئر ص٢٠٣ ج١، ط.س. ج١ ص٢٢٠). ظفير

(۵) اذا وقع في البئر سام ابرص ومات ينزح منها عشرون دلوا في ظاهر الرواية (عالمگيري كشوري ماء الآبار ج١ ص١٨، ط. ماجدية ج١ ص٢٠). ظفير

(٦) الوزغة لو كبيرة لها دم سائل (ردالمحتار باب المياه ص١٧١ ج١، ط.س. ج١ ص١٨۵) معلومه سوه چي په غټه چرمښکۍ کي وينه وي اوپه کوچنۍ کي نه وي. ظفير

په کم ځاه کی چی بنګی خپله سلواغه واچوی هغه پاک دی اوکه ناپاکه؟ سوال: (۱۸۷) جاروکښ یعنی بنګی چی خپله سلواغه په کم ځاه کی واچوی چی دهغه کورنۍ سلواغه وی او داوبو ډکولو څخه وروسته هغه خپل کورته یوسی همدغه ډول هغه داکار کوی آیا دغه ځاه پاك دی اوکه ناپاکه؟ دمسلمانانو دپاره ددغه ځاه څخه اوبه وړل په کاردی اوکه نه؟

جواب: (دیو بل مفتی لخوا) بنګی دیونجس قوم څخه دی دپاکیدلو هیڅ شرط هغه ته معلوم نه دی الله پاك مشرك ته نجس فرمایلی دی نوچی څوك په خپله نجس وی نودبل شي پاکي به هغه څنګه وکړی هغه پخپله ناپاك اودهغه لوښی ناپاك دي کم شی چی په اسلام کی حرام دی هغه دهغوی په نزد هغسی نه دی نو دهم دی وجه څخه دهغه سلواغه نجسه سوه خدای خبر چی پرهغی باندی به څه څه لګیدلي وی که سپی ورباندی متیازی کړی وی نوهم کیدی سي، دهمدی وجه څخه ددی ځاه اوبه استعمالول نه دی په کار همدا مطلب ددی آیت مبارکه دی چی: ان اکرمکم عند الله آتقکم، بیشکه ډیر عزتمند ستاسی څخه دباری تعالی په نزد پرهیزګار ستاسی دی کله چی قرآن پاك دپرهیز حکم فرمایی نو دا معلومه کړی چی پرهیز په کمه خبره حاصلیږی دغه ځاه ناپاك دی مسلمانان دي ددی ځاه اوبه نه استعمالوی ترڅو پوری چی شرط دپاکوالی ادا نه سی. (انما یتقبل الله من المتقین). فقط

جواب: (ددار العلوم دمفتی عزیز الرحمن صاحب رحمه الله) دامسئله صحیح نه ده ترڅو پوری چی دهغه دسلواغي ناپاکوالی لیدل سوی نه وی یا دهغی په باب علم ورته وسی ترهغه وخته پوری ځاه ته ناپاك نه وایو (الیقین لایزول بالشك) ([1]) دفقهی یوه مسلمه قاعده ده. فقط والله تعالی اعلم

مشرك چی دکم ځاه څخه اوبه وباسی نو هغه پاك دی اوکه ناپاك؟ سوال: (۱۸۸) که چیري یو مشرك دمسلمانانو دځاه څخه په لوښی کی اوبه راوباسی نوځاه پاك دی اوکه ناپاکه ؟ که چیري ځاه پاك وی نوبیا د: اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ، به څه معنٰی وی ؟

جواب: مشرك که چیري په خپل لوښی کی دځاه څخه اوبه راوباسی اوپه ظاهره پردغه لوښی باندی نجاست نه وي نودځاه اوبه پاکی دی او وهم کول نه دی په کار (الیقین لایزول بالشك، الاشباه. جمیل الرحمٰن)، او د: اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ، څخه دعقیدی نجاست مراد دی. فقط. عزیز الرحمٰن (فی الخازن ج۱ ص۵۲۱: اراد بهـــذه النجاسة الحکم لا نجاسة

([1]) الاشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵. ظفیر

العین سموا نجساً علی الذم لان الفقهاء اتفقوا علی طهارة ابدانهم (جمیل الرحمٰن).
په حرام مال چې کم څاه تیار کړل سي نو ددې څه حکم دی؟ سوال: (۱۸۹) یوې ښځې دحرامې ګټې یعنې دسود څخه روپۍ جَمع کړېدې اوپه دغه روپو یې یوڅاه جوړ کړی دی یو مولوی صاحب وایي چې ددغه څاه جوړول په دغه روپو جائز نه دی او ددغه څاه څخه اوبه څېښل او اودس کول جائزنه دی !
جواب: ددغه اوبو څخه اودس کولی سی او لمونځ به ادا کولی سی اولمونځ په ادا کیږي. فقط (الماء طهور، الحدیث).
هندو چې دڅاه څخه اوبه را وباسي نوڅاه نه پلیتیږي: سوال: (۱۹۰) بعضي خلګ وایي چې هندو مشرك دوکاندار که چیري دڅاه څخه اوبه راوباسی نوڅاه نجس عین ګرځی، بلکه ددی څاه په اوبو لمونځ اونور څه نه کیږی اوبعضي خلګ وایی چې که چیري مشرك په خپل لوښی کی اوبه دڅاه څخه راوباسی چې دهمدی دپاره دی نوهغه څاه نه پلیتیږی.
جواب: هندو مشرك که چیري په خپل لوښی یا سلواغه سره ددغه څاه څخه اوبه راوباسی نودڅاه اوبه پاکی دی هیڅ وهم کول په کارنه دی: قال الله تعالی وما جعل علیکم فی الدین من حرج، وقال الله تعالی: وانزلنا من السماء ماءاً طهوراً، وقال علیه السلام الماء طهور، الحدیث، دفقهی په کتابونوکی لیکل سویدی چې په شك سره یقین نه زائل کیږی. فقط والله تعالی اعلم بنده عزیز الرحمٰن عفی عنه (ومع هذا لو اکل او شرب قبل الغسل ای قبل غسل اوانی المشرکین جاز الخ، عالمګیری ج۴ ص۲۲۲. جمیل الرحمٰن).
په کم څاه کی چې دوا واچول سی هغه پاک دی اوکه نه؟ سوال: (۱۹۱) نن سبا په څاه ګانو کی دواوی اچول کیږی نوددی څاه ګانو څخه اودس کول څنګه دی؟
جواب: اودس کول ددې څخه درست دی: وتجوز الطهارة بالماء الی قوله والماء الذی یختلط به الاشنان او الصابون او الزعفران بشرط ان تکون الغلبة للماء من حیث الاجزاء بان تکون اجزاء الماء اکثر من اجزاء المخالط هذا اذا لم یزل عنه اسم الماء الخ، کبیری ص۸۷. فقط
دڅاه په اوبو یې ډوډې پخه کړه بیا دڅاه څخه مړ حیوان را وایستل سو نو باید څه وکړل سي؟ سوال: (۱۹۲) یومړ مرغه دڅاه څخه را وایستل سو دایستلو څخه مخکی ددی څاه په اوبو باندی طعام پوخ سوی ؤ نودغه طعام پاك دی اوکه نه؟
جواب: کمی اوبه چې ددغه مړ مرغه دایستلو او لیدلو څخه مخکی دڅاه څخه ایستل سوی دی هغه پاکی دی اوپه دی اوبو چې طعام اوخواړه پاخه سوی دی هغه حلال اوپاك

دی دمړ مرغه دلیدلو څخه وروسته ځاه ناپاك سوی دی هغه دي وباسی که چیري پړسیدلی یا رژیدلی نه وی نوشپیته بوکې دي وایستل سی استحاباً او څلویښت وجوباً یعنی دڅلویښتو بوکو ایستل ضروری دی او ترشپیتو پوری یې ایستل مستحب دی: ویحکم بنجاستها الی قوله وقالا من وقت العلم فلا یلزمهم شيء قبله وبه یفتٰی (درمختار) قال الشامی صاحب الجوهرة وقال العلامة قاسم فی تصحیح القدوری قال فی فتاوی العتابی قولهما هوالمختار (شامی ج۱ ص۲۲۲) ان اخرج الحیوان غیر منتفخ ومتفسخ ان کان کحمامة وهرة نزح اربعون من الدلاء وجوبًا الی ستین ندبًا. جمیل الرحمٰن). فقط

مار چی په ځاه کی ولویږي او مړ سي: **سوال**: (۱۹۳) اوریدلی مودی چی که چیري په ځاه کی مار ولویږي اومړ سی نوځاه نه پلیتیږی داصحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دي کی دا تفصیل دی چی که چیري مار داوبو وی په کم کی چی وینه نه وی نو دهغه په مرګ سره دځاه اوبه نه پلیتیږی اوکه چیري مار ځنګلی وی اوپه هغه کی وینه وی نو دهغه په مرګ سره اوبه پلیتیږی لکه څنګه چی په در مختار کی دی: وضفدع الا بریًا له دم سائل فیفسد فی الاصح لحیة بریة ان لهادم والا لا قوله کحیة بریة اما مائیة فلا تفسد مطلقا الخ ([1]). فقط

دډوډی دپخولو څخه وروسته دځاه څخه مړ چرګ را وایستل سو: **سوال**: (۱۹۴) دیو امیر په ځای کی دډیرو خلګو ضیافت ؤ کله چی ډوډی تیاره سوه نودځاه څخه اوبه راوغوښتل سوی نو دهغه ځاه څخه یومړ چرګ هم راپورته سو او دهمدغه ځاه په اوبو سره ټوله ډوډی پخه سوی وه لیکن دچرګ پر بدن باندی هیڅ قسم تفسخ او تنفخ نه ؤ یوه مولوی صاحب دافتوٰی ورکړه چی دا ډوډی پلیته ده حیوانانو ته دي واچول سی بل مولوی صاحب وویل چی اګر چی دمولوی صاحب فتوٰی علی مذهب الامام درسته ده خوپه دي کی تضییع دمال او حرج عظیم راځی په داسی صورت کی فتوٰی علی قول الصاحبین پکار ده، نو آیا په دې صورت کي دامام صاحب پر قول فتوٰی ورکول پکار دي اوکه دصاحبینو پرقول؟ اوهغه کم ضرورت دی چی یوه مقلد لره دبل امام په قول باندی عمل کول درست دی؟

جواب: په دی باره کی ددویم امام قول صحیح دی کم چی دصاحبینو پر قول باندی فتوٰی ورکړی ده ولی چی ډیرو علماؤ په دی باره کی دصاحبینو پرقول باندی فتوٰی ورکړیده

([1]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ص۱۷۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۵. ظفیر

اوفقهاؤ هم، اودفقهي په کتابونوکی ددی مفتی به کیدل ظاهر دی ([1]) په شامی کی دی: وقال العلامة قاسم فی تصحیح القدوری قال فی فتاوی العتابی قولهما هو المختار ج۱ ص۴۱۳ او دمنیه په شرح کی دی: وقالا لیس علیهم اعادة شيء مما صلوه بالوضوء منها ولا غسل شيء مما اصابه مائها حتی یتحققوا متی وقعت حملا علی انها وقعت تلك الساعة فماتت او کانت میتة فوقعت بریح او غیره وذلك لان الحوادث تضاف الی اقرب الاوقات قبل الامکان والیقین لا یزول بالشك والطهارة کانت متیقنة وقع الشك في زوالها قبل الاطلاع الخ ([2]) ددې څخه دصاحبینو ددلیل قوت معلومیږی: وقد قال فی الدرالمختار وصحح فی الحاوی القدسی قوة المدرك الی الدلیل ([3]) باقی داخبره چی دغیر پرمذهب باندی په کم وخت کی فتوٰی ورکول جائزدی یعنی دباقی ائمه ثلاثه ؤ، امام مالك، امام شافعی او امام احمد رحمهم الله پرقول باندی فتوٰی په کم صورت کی درسته ده؟ نوپه دي کی موږ مقلدینو لره په هم هغه وخت اومواقعو کی فتوٰی ورکول جائز دی په کمو کمو مواقعو کی چی دفقهاؤ څخه تصریح ده لکه دمفقود دزوجه په باره کی یا دعدت ممتدة الطهر په باره کی یا په بله یوه مسئله کی چی دفقهاؤ تصریح پیدا سی. فقط

په څاه کی ناپاکه بنګی پریوتی اومږ سو نوڅاه به څنګه پاکیږي؟ سوال: (۱۹۵) په یوچینه دار څاه کی به دوه دوه نیم بانسه اوبه وی یوبنګی دچا چه بدن اوجامی نجسی وی پکښی پریوتی اومږ سو نوپه دویمه ورځ هغه را وایستل سو نواوس دڅومره اوبو درا ایستلو څخه وروسته به هغه څاه پاك سی؟

جواب: په دی صورت کی ددوه سوه بوکو (وجوبًا) څخه تر دری سوه بوکو (استحبابًا) پوری په اوبو را ایستلو سره به دا څاه پاك سی: جزم به فی الکنز والمتقی وهو مروی عن محمد (رح) وعلیه الفتوٰی خلاصه وتاتارخانیه عن النصاب وهو المختار معراج عن العتابیه وجعله فی العنایة روایة عن الامام وهو المختار والایسر کما فی الاختیار وافاد فی النهر ان المأتین واجبتان والمأیة الثالثه مندوبة الخ، شامی ([4]). فقط

داوبو چنګاښ چی په اوبو کی مړسی نوڅه حکم یی دی؟ سوال: (۱۹۲) کم څاه چی لس په

([1]) ویحکم بنجاستها مغلظة من وقت الوقوع إن علم وإلا فمذ یوم ولیلة إن لم ینتفخ ولم یتفسخ الی قوله: وقالا من وقت العلم فلا یلزمهم شيء قبله قیل وبه یفتی (الدر المختار ج۱ ص۲۱۲، ط.س. ج۱ ص۲۱۸). ظفیر

([2]) وګوري: غنیة المستملي في شرح منیة المصلي ص۱۵۸. ظفیر

([3]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب في طبقات المسائل ج۱ ص۲۵، ط.س. ج۱ ص۷۱. ظفیر

([4]) ردالمحتار فصل في البئر ج۱ ص۱۹۸، ط.س. ج۱ ص۲۱۵. ظفیر

لس کي نه وی په داسی څاه کی که چيري چنګاښ مړ سی او وپړسيږی اوپه هغه کی بد بويی هم پيدا سی ليکن ريزه نه سی په داسی حال کی چی دغه څنګاښ هم داوبو وی يعنی په اوبوکی پيدا کيږی اوپه اوبوکی لوئيږی اوپه اوبوکی اوسيږی نوددی څاه څه حکم دی؟ بينوا وتؤجروا !

جواب: په يوڅاه کی که چيري داوبو چنګاښ مړ سی او وپړسيږی نو ددغه څاه اوبه نه پليتيږی، دهغه په اوبو سره اودس کول اوڅيښل يې درست دی، که چيري څيری سی او ريزه ريزه سی نو بياهم په هغه سره اودس کول درست دی ، البته دهغو څيښل جائز نه دی کما فی الدرالمختار ويجوز رفع الحدث بما ذکر وان مات فيه غير دموی ومائی المولد کسمك وسرطان وضفدع فلو تفتتت فيه نحوه صفدع جاز الوضوء به ولا يشربه لحرمته الخ (۱). فقط

په کم څاه کی چی سپی ولويږی او مړسی نو دهغه دپاکولو څه طريقه ده؟ سوال: (۱۹۷) څه فرمايی علماءِ دين په دی مسئله کی چی يوسپی په څاه کی ولويدی په کم کی چی اوبه ترشلو لاسونو زياتی دی اودسپی دلويدلو څخه يوه نيمه مياشت وسوه هغه څاه تازه کړل سو نوهډوکی ريزه ريزه راووتل نو دا احتمال دی چی ضرور به په هغه کي دسپی هډوکی پاته وی او اوبه هم دوه لاسه کمی سوی وی خو ټولی اوبه بالکليه نه سی وتلی اوس دشريعت څه حکم دی؟ چی هغه څاه په څه قسم پاکيدلی سی چی اوبه دهغه ښه وايستل سی او هډوکی باقی پاته سی نو دهغو څه حکم دی؟

جواب: دداسی څاه دپاکيدو يو صورت فقهاؤ دا ليکلی دی چی داڅاه تردومره مودی پوری پريښودل سی چی ددغه سپی هډوکی غوښه اوڅرمن ورژيږی اوخاوره اوختيه سی، اوبعضو فقهاؤ فرمايلی دی چی ترشپږو مياشتو پوری دی دا پريښودل سی اودهغه څخه وروسته دي ټولی اوبه دهغه څخه وايستل سی اوکه ټولی اوبه ايستل دشوار وی په وجه دڅاه دچينه دار کيدلو نو ددوه سوه بوکو څخه تردری سوه بوکو پوری په اوبو ايستلو سره به څاه پاك سی: کما فی الدر المختار ينزح کل مائها بعد اخراجها الا اذا تعذر کخشبة او خرقة متنجسة فينزح الماء الی حد لا يملاء نصف الدلو يطهر الکل تبعا الخ (۲) فی الشامی واشار بقوله متنجسة الی انه لابد من اخراج عين النجاسة کلحم ميتة وخنزير الخ قلت فلو تعذر ايضا ففی القهستانی عن الجواهر لو وقع عصفور فيها فعجزوا عن اخراجه فما دام فيها فنجسة فتترك مدة يعلم انه استحال وصار حماة وقيل

---

(۱) الدر المختار مجتبائي باب المياه ص۱۳۵ ج۱. ظفير

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل في البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲. ظفير

مدة ستة اشهر الخ، شامی ([1])، کله چی دطهارت علت استحاله دی یعنی خاوره او ختهٔ کیدل ددغه حیوان نوظاهره ده چی دهره یوه حیوان دپاره به په قدر دوړوکوالی او دغټوالی موده مختلفه وی او همدا صورت هم دڅاه داوبو دطهارت کیدلی سی چی تازه کړل سی او دهغه خاوره وایستل سی نوکله چی په ظن غالب هډکو دهغه ووزی او دغوښی او دپوستکی ختهٔ اوخاوره کیدل معلوم سی او اوبه دهغه وایستل سی نو اوبه به پاکی سی. فقط

آیا دڅاه دپاکولو دپاره پرله پسی داوبو ایستل ضروری دی؟ سوال: (۱۹۸) دڅاه دپاکیدو په وخت کی دڅاه څخه پرله پسی بوکی را ایستل کیږي اوکه نه په تدریج سره؟

جواب: پرله پسی ایستل داوبو شرط نه دی ([2]). فقط

دناپاکه چینه دار څاه دپاکوالی طریقه: سوال: (۱۹۹) یوچینه دار څاه دی چی څومره اوبه ورڅخه راوکاږی هغومره زیاتیږی دغه څاه دپلیتی ورلویدلو دوجه څخه نجس سو نو ټولی اوبه به را ایستل کیږي اوکه نه؟

جواب: اول دي دغه نجاست دڅاه څخه را وایستل سی او ددغه څخه وروسته دي دری سوه بوکی ددغه څاه څخه وایستل سی باقی اوبه به پاکی سی فتوی پرهمدی باندی ده او دټولو اوبو دایستلو ضروت نسته ([3]) او دمتفرقو بوکو ایستل هم درست دی ([4]). فقط

دناپاکه څاه اوبه که چیري په وقفی ورکولو سره په څو کرتو وایستل سی نوپاک به سی اوکه نه؟ سوال: (۲۰۰) دنجس څاه په اوبو ایستلو کی که وقفه راسی یعنی لږی لږی اوبه څو واری وایستل سی نوڅاه به پاك سی اوکه نه؟ اوکه په یوه وار سره داوبو ایستل ضروری دی په بهشتی زیورکی دی چی څومره اوبه ایستل ضروری وی نوکه هغه په یودم سره وباسی اوکه لږی لږی په څو واره سره یې وباسی په هر ډول سره به څاه پاك سی؟

جواب: دصحیح اومختارمذهب موافق په یوه وارسره ټولی اوبه څومره چی ایستل واجب

([1]) ردالمحتار فصل في البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲. ظفیر

([2]) إذا وقعت نجاسة فی بئر دون القدر الکثیر الخ ینزح کل مائها بعد إخراجه الخ ولو نزح بعضه ثم زاد فی الغد نزح قدر الباقی فی الصحیح (درمختار) ومثله فی الخانیة وهو مبنی علی أنه لا یشترط التوالی وهو المختار کما فی البحر والقهستاني (ردالمحتار فصل فی البئر، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ - ۲۱۲). ظفیر

([3]) وإن تعذر نزح کلها لکونها معینا فبقدر ما فیها وقت إبتداء النزح قاله الحلبی یؤخذ ذلك بقول رجلین عدلین لهما بصارة بالماء به یفتی وقیل یفتی بمأتین إلی ثلث مائة وهذا ایسر وذاك أحوط (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئرج۱ ص۱۹۷ - ۱۹۸، ط.س. ج۱ ص۲۱۴). ظفیر

([4]) ولایشترط التوالی وهو المختار کما فی البحر والقهستاني (رد المحتار فصل فی البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲). ظفیر

وه دهغو ایستل ضروری نه دی په توقف سره په څو واره سره یې ایستل هم درست دی لکه څنګه چې په جنتی کالی کی دی: علی انه لایشترط التوالی وهو المختار الخ (۱). فقط

دمرغانو ګندګی او دنورو چې په څاه کی ولویږي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۰۱) یوڅاه دی چې پر هغه باندی دپیپل ډیره لویه درخته ولاړه ده دهغی پرسر هروخت مرغان لکه ټپوس، کارغه اونور ناست وی اوغلاظت وغیره او دحیوانانو هډوکی او خرمنی هم هلته په څاه کی وراچوی نوداڅاه پاك دی اوکه ناپاك؟ اوددې څخه اودس اولمونځ کول څنګه دی؟

جواب: ترڅو پوری چې څه نجاست په دغه څاه کی ونه لیدل سی نوتر هغه وخته پوریورباندی حکم دناپاکی نه سی کیدی او اودس په هغو اوبو درست دی اولمونځ صحیح دی (۲). فقط

دکپړو څخه جوړ سوی دماشومانو ګیند (توپ) چې په څاه کی ولویږي نوڅاه پاک سو که ناپاک؟ سوال: (۲۰۲) دټوکرانو څخه جوړ توپ چې ماشومان لوبی په کوی هغه اکثراً په پلیتی لکه نالی وغیره کی لویږي چې نجس هم سی نوکه چیري هغه په څاه کی ولویږي اوډوب سی اولاندی ولاړ سي نوڅاه به څنګه پاکیږی؟

جواب: ترڅو پوری چې ددغه توپ دپلیتوالی یقین نه وی او دنجاست لګیدل پرهغه خاص لیدل سوی نه وی نوتر هغه وخته پوری به څاه ته ناپاك نه ویل کیږی لکه څنګه چې دفقهی په کتابونوکی تصریح ده (الیقین لایزول بالشك) نو په شك سره حکم دنجاست نه سی کیدی (۳). فقط

دچنګښي په مړکیدلو باندی چې په څاه کی مړ سی څاه پلیتیږی اوکه نه؟ سوال: (۲۰۳) چنګښه که په څاه کی مړه سی او دهغې دګوتو په مابینځ کی پرده نه وی نوهغه څاه به ناپاك سی اوکه نه؟ اوپه کوچنۍ اوغټه کی څه فرق سته اوکه نه؟ بغیر دپردی څخه نور څه نښاني یې هم سته اوکه نه؟

---

(۱) ردالمحتار فصل في البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲. ظفیر

(۲) ولا نزح في بول فارة في الاصح ولا بخرء حمام وعصفور وكذا سباع طير في الاصح لتعذر صونها عنه (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في البئر ص۲۰۳ ج۱) اليقين لا يزول بالشك (الاشباه والنظائر ص۷۵ قاعده ثالثه). ظفير

(۳) اليقين لا يزول بالشك ودليلها ما رواه مسلم عن ابي هريرة مرفوعا اذا وجد احدكم في بطنه شيئا فاشكل عليه اخرج منه شيء ام لا فلا يخرجن من المسجد حتى يسمع صوتا او يجد ريحا (الاشباه والنظائر) قيل هذه القاعدة تدخل في جميع ابواب الفقه والمسائل المخرجة عليها تبلغ ثلاثة ارباع الفقه او اكثر (شرح الحموي الفن الاول القاعدة الثالثة ص۷۵). ظفير

جواب: که جاري وينه په هغې کې وی نو ناپاکه به وی کنې نه به وی: فی الدر المختار وضفدع الا بريًا له دم سائل وهو ما لا سترة له بين اصابعه الخ (۱). فقط

چرګوړي چې په څاه کې ولويږي او مړ سي نوڅاه پاک دی اوکه ناپاکه؟ **سوال**: (۲۰۴) دچرګې بچې يا دمرغې يو بچې چې ديوه يا دوو ورزو لرونکې وی يا مړ پيدا وی ددی په لويدلو سره څاه ته آيا څاه به ناپاکه سی اوکه نه ؟

جواب: ناپاکه به سی (۲). فقط

په څاه کې چې مړه ولويږي اومړه سي نو داوبو يې څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۰۵) په کم څاه کې چې مړه وغيره يوشې ولويږي اومړه را وايستل سي خو اوبه بالکل ونه ايستل سی نوهغه څاه به هيمشه ناپاکه وی اوکه نه څه موده وروسته به پاك سی، دبعضو هندوانو په علاقو کې همداسی کيږی ؟

جواب: بغير داوبو ايستلو څخه به دغه څاه پاك نه سی ليکن که چيري هندوان ددغه څاه څخه اوبه وړی نوچې کله اندازةً هغه مقدار په اوبو کې ووزی څومره چې لازم وی هغه څاه به پاك سی ځکه چې متفرقًا اوبه وتل هم موجب دطهارت دی بيا مسلمانانو لره هم دهغه څخه داوبو وړل او استعمالول درست دی (۳). فقط

کافر چې په ناپاکه جامو کې څاه ته کښته سي نو دڅاه اوبه ناپاکه سوې: **سوال**: (۲۰۲) که چيري يو کافر سره دپليتو جامو په څاه کې داخل سی نو دهغه داوبو څه حکم دی؟

جواب: دهغه اوبو ايستل په کاردی په اوبو ايستلو سره به هغه څاه پاك سی لکه څنګه چې دحضرت عبد الله بن الزبير ﷺ فتوی (۴) ده. فقط

مړه چنګښه دڅاه څخه راووتله خو دا معلومه نه ده چې بری ده اوکه بحری نو بايد څه وکړل سی؟ **سوال**: (۲۰۷) که چيري مړه چنګښه دڅاه څخه راووزی خودا معلومه نه وی چې په دې کې دم سائل سته اوکه نه؟ نوددم سائل څه نښانه ده ددې وجه چې معلومه کړل سی چې په ده کې دم سائل ده اوکه نه؟

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المياه ص۱۷۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۵. ظفير

(۲) وإن كان كحمامة وهرة نزح اربعون من الدلاء وجوبا إلى ستين الخ ندبا كما أن مابين دجاجة وشاة كد جاجة الخ ويحكم بنجاستها مغلظة من وقت الوقوع إن علم (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۹ - ۲۰۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲). ظفير

(۳) وان کان کعصفورة وفارة فعشرون إلی ثلاثين کمامر الخ ويحکم بنجاستها مغلظة من وقت الوقوع إن علم (درمختار) لا يشترط التوالي وهو المختار (ردالمحتار فصل فی البئرص۱۹۲ - ۱۹۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲). ظفير

(۴) ان الکافر إذا وقع فی البئر وهو حی نزح الماء الخ لأنه لايخلو من نجاسة حقيقية او حکمية الخ (رد المحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۷، ط.س. ج۱ ص۲۱۴). ظفير

جواب: دبحری اودبری دپیژندګلوی دپاره درمختار دالیکلی دی چی دکمي دګوتو په مینځ کی ستره یعنی څرمن وی نو هغه بری ده اوهغه دم سائل لری دهغه په مړکیدلو سره لږ اوبه پلیتیږی نوځاه به هم پلیت سی اودبحری چنګښي په مرګ سره به نه پلیتیږی اودا هغه دی چی دهغه دګوتو ترمینځ څرمن نه وی اوګوتی یی جلا جلا وی اودم سائل کیدل اونه کیدل په لوی او کوچنی سره معلومیدلی سی: وضفدع الا برياً له دم سائل وهو ما لا سترة له بين اصابعه فيفسد فی الاصح الخ. (۱) فقط

چرمښکی چی ورولویږی اومړه سی یا وپړسیږی او وچوی نوڅومره اوبه به ایستل کیږی؟

سوال: (۲۰۸) څاه دچرمښکی په لویدلو ناپاکه کیږی اوکه نه؟ او دپړسیدلو او چاودلو څخه وروسته به څومره بوکې را ایستل کیږی؟

جواب: چرمښکی که چیري لویه وی چی په هغی کی وینه وی مثلاً دکربوړي په شان نو دهغی په مړه کیدلو سره دڅاه اوبه ناپاکیږی هغه دی مخکی وایستل سی اوبیا دی شل دیرش بوکی وایستل سی نواوبه به پاکی سی اوکه چیري په هغی کی وینه نه وی نوبیا اوبه نه پلیتیږی لیکن احتیاطاً شل دیرش بوکی ایستل بهتردی (۲). فقط (اوکه چیري غټه چرمښکی ورولویږي او وپړسیږی او وچوی نوبیا ټولی اوبه ایستل ضروری دی (۳). ظفیر)

سرلی یا پیشي چی په څاه کی ولویږي او مچیارۍ وکړی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۰۹) په یوه څاه کی سرلی یا سپی یا پیشو ولویده او مچیازی یی وکړی نو ددغه څاه څخه باید څومره اوبه وایستل سی؟

جواب: ددغه څاه ټولی اوبه ایستل لازم دی لیکن فقهاؤ پرځای دټولو اوبو دری سوه ۳۰۰ بوکی ایستل جائز ګڼلی دی بس همدومره یعنی دری سوه ۳۰۰ بوکی کافی دی اوباقی اوبه پاکی دی (۴). فقط

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۷۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۵. ظفیر

(۲) وضفدع إلا بريا له دم سائل وهو ما لا سترة له بين اصابعه فيفسد فی الأصح كحية برية (درمختار) وكالحية البرية الوزغة لو كبيرة لها دم سائل منيه (ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۷۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۵). ظفیر

(۳) اذا وقعت نجاسة الخ او مات فيها الخ حيوان دموی غير مائي وانتفخ او تمعط او تفسخ الخ ينزح كل مائها الذي كان فيها وقت الوقوع بعد اخراجه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۴، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ - ۲۱۲). ظفیر

(۴) إذا وقعت نجاسة الخ فی بئر دون القدر الكثير الخ ينزح كل مائها الخ وإن تعذر فبقدر ما فيها الخ وقيل يفتی بمأتين إلی ثلث مائة وهذا ايسر وذاك احوط (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۴، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ - ۲۱۲ - ۲۱۴). ظفیر

په څاه کی چی سپی ولویدی او ژوندی را وایستل سو نو څومره اوبه به ایستل کیږي؟ **سوال**: (۲۱۰) که چیري سپی دجومات په څاه کی ژوندی ولویږي او ژوندی را وایستل سی نوڅومره اوبه به ایستل کیږي دڅاه څخه چی پاك سی؟ په څاه کی اوبه ډیری دی نو ټولی اوبه را ایستل دنهایت ډیر وخت اړین دی؟

جواب: ددری سوه ۳۰۰ بوکو په ایستلو سره به په دی صورت کی څاه پاك (۱) سی. فقط

دباران په زمانه کی که دلاري او دکوڅو اوبه په څاه کی ولویږی نوڅاه ناپاکیری اوکه نه؟

سوال: (۲۱۱) دکورونو او دلارو او دکوڅو اوبه کمی چی په باران کی راځی هغه که وبهیږی اوپه یوڅاه کی ولویږي نوڅاه به ناپاکه سی اوکه نه؟ په چشمهٔ فیض نومي کتاب کی یې دلارو او کوڅو اوبه غلیظی او نجسی نه دی ګرځولی؟

جواب: دباران اوبه کمی چی په لارو اوکوڅو کی راسی او وبهیږی اوټول نجاستونه وبهیوی بیشکه هغه پاکی اوبه دی کما فی کتب الفقه (۲). فقط

په څاه کی چی کشف مړ سی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۱۲) یو کشف چی په څاه کی همیشه اوسیږی که چیري په څاه کي مړ سی نو اوبه پلیتوی اوکه نه؟ اوکه پلیتوی یې نوپه کم دلیل؟ دم مسفوح لری چي دا هغه بهیدونکی وینه ده چی حقیقه وینه ده اوپه لمر باندی داوچیدو څخه وروسته توریږی اوکه رطوبت دوینی په شان لری دماهی په شان چی داوچیدو څخه وروسته سپینږی او ددی جواب څه دی (اذا الدموی لا یسکن الماء لمنافات بین طبع الماء والدم) او ددی جواب څه دی چی داوبو سپی په اتفاق دمتونو اوشروحو مرګ دهغه اوبه نه پلیتوی سره ددی چی توالد یې دباندي داوبو څخه داوبو په غاړوکی په غارونو کی وی، کشف که چیري اوبه نه پلیتوی په شان داوبو دسپی، ښنګاښ، داوبو دخنزیر او دښنګښی بحری، نو دلیل یې ولیکی په کم دلیل؟ آیا دم مسفوح نه لری؟ او دوچی او دبحری په مینځ کی څه فرق دی؟ آیا داسي دی لکه ښنګه یې چی په ضفدع کی فرق کړی دی؟ اوعلامه شامی حیوانات پر دری قسمه ویشلی دی بری، بحری، اوبری او بحری دواړه، نو کشف په شان دطیر الماء ده که ښنګه؟

جواب: قال في الدرالمختار ومائي مولد ولو كلب الماء وخنزيره الخ قوله: ومائى مولد عطف على قوله غير دموي أي ما يكون توالده ومثواه في الماء سواء كانت له نفس سائلة أو لا في ظاهر

---

(۱) وإن تعذر نزح كل مائها فبقدر ما فيها الخ وقيل يفتى بمائتين إلى ثلث مائة وهذا أيسر وذاك أحوط (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۷ – ۱۹۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۴ – ۲۱۵). ظفیر

(۲) المطر مادام يمطر فله حكم الجريان حتى لو أصاب العذرات على السطح ثم أصاب ثوبا لايتنجس الا ان يتغير (عالمگيري كشوري ص۱۵ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۱۷). ظفير

الرواية بحر عن السراج، أي لأن ذلک ليس بدم حقيقة وعرف في الخلاصة المائي بما لو استخرج من الماء يموت من ساعته وإن كان يعيش فهو مائي وبري فجعل بين المائي والبري قسما آخر وهو ما يكون مائيا وبريا لكن لم يذكر له حكم عليحدة والصحيح أنه ملحق بالمائي لعدم الدموية شرح المنية أقول: والمراد بهذا القسم الآخر ما يكون توالده في الماء ولا يموت من ساعته لو أخرج منه كالسرطان والضفدع الخ شامی جلد اول (۱) نو دمذکوره عبارت څخه واضحه سوه چي داوبو دکشف دمرګ حکم همدغه دی چي په اوبو کی دده مرګ اوبه نه پلیتوی. فقط

دڅاه دناپاکوالی دعلم څخه مخکی چی کمی اوبه استعمال کړل سوی دی دهغو څه حکم دی؟ سوال: (۲۱۳) دڅاه دپلیتوالی دمعلومیدلو څخه مخکی یی چی ددغه اوبو څخه اودس او غسل اونور کړی وه او دغه اوبه چی دلمونځ کوونکی دجامو یا دلوښو سره لګیدلی وی هغه ټول پلیتیږی اوکه نه؟ لکه څنګه چی دڅاه دپاکیدلو سره رسی، سلواغه او دڅاه دیوالونه ټول پاکیږی دغه ډول پربدن باندی جامه وغیره هم پاکیږی اوکه نه؟

جواب: دڅاه دناپاکوالی دمعلومیدلو څخه مخکی چی کمی اوبه دهغه څخه ایستل سویدی هغه په مفتی به قول باندی پاکی دی او اودس اولمونځ په هغه سره درست دی (۲). فقط

سام ابرص چی په څاه کی ولویږی اومړ سی نوڅاه به پلیتیږی او که نه؟ سوال: (۲۱۴) که چیري کربوړی په څاه کی مړسی نو دهغه څه حکم دی اوهغه په څرمنبکی کی داخل دی اوکه نه؟ اوپه دواړو کی څه فرق دی؟

جواب: که چیري کربوړی لوی وی چی په هغه کی بهیدونکی وینه وی نودڅاه اوبه به ناپاکي سی او دڅرمنبکی او کربوړی یوحکم دی (۳). فقط

(۱) ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۷۰ – ۱۷۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۵. ظفیر

(۲) ویحکم بنجاستها مغلظة من وقت الوقوع إن علم وإلا فمذ يوم وليلة إن لم ينتفخ ولم يتفسخ وهذا فی حق الوضوء والغسل الخ أما فی حق غيره كغسل ثوب فيحكم بنجاسته فی الحال الخ وقالا من وقت العلم فلا يلزمهم شيء قبله قيل وبه يفتى (درمختار) قوله قيل وبه يفتى قائله صاحب الجوهرة وقال العلامة قاسم فی تصحيح القدوري قال فی فتاوی العتابی قولهما هو المختار الخ وصرح فی البدائع بان قولهما قياس وقوله استحسان وهو الأحوط فی العبادات (رد المحتار فصل فی البئر ج۱ مطلب فی تعريف الإستحسان ج۱ ص۳۰۲ – ۳۰۳، ط.س. ج۱ ص۲۱۸). ظفير

(۳) وكذا الوزغة إذا كانت كبيرة أي بحيث يكون لها دم فانها تفسد الماء (غنية المستملي ص۱۲۴). ظفير

دناپاک څاه پرپاکوالی باندی دامام محمد رحمه الله په قول فتوی: **سوال**: (۲۱۵) دڅاه په پاکوالی کی دامام محمد رحمه الله فتویٰ چی ددرو سوو سلواغو ده هغه اختیارول اوپه هغه باندی فتویٰ ورکول احنافولره درست دی اوکه نه؟

جواب: قال الله تعالیٰ: يريد الله بكم اليسر ولا يريد بكم العسر ([1]) نوکله چی دامام محمد رحمه الله په قول کی آسانتیا ده او فقهاؤ پردی باندی فتویٰ ورکړی ده نو دآسانتیا دوجه څخه دا اختیارول اوپه دی باندی فتوی ورکول جائزدی ([2]). فقط

دسلحفاة (کشف) په اړه تحقیق: **سوال**: (۲۱۶) دبحري کشف مسئله چي ددرمختار او دشامی دباب المیاه ص۲۲ څخه مستنبطه ده چی لری اوبه نه پلیتوی دا مسئله موږ ته راورسیده امیددی چی حق به ددې څخه وتلی نه وی دبنده رایه هم همدا ده ځکه چی داوبو حیوان چی همیشه په اوبوکی اوسیږی دم مسفوح نه لری کما هو المقرر، چی داوبو او دوینی په مینځ کی مخالفت دی مګر یوه خدشه عسیر الحل (ګرانه) باقی پاته ده

خدشه: قال العلامة الدميري في حياة الحيوان في بيان سلحفاة البرية وهذا الحيوان يبيض في البر فما نزل منه في البحر كان لجئة وما استمر في البر كان سلحفاة ثم قال بعد اسطر السلحفاة البحرية اللجأة وستأتي في باب الدم، انتهٰى. ددې څخه ظاهره ده چی توالد دبحری او دبری داوبو څخه بیرون دی نو مائی المولد نه سو او مائی المعاش سو لکه په شان دطیر الماء، وروسته دشامی داعبارت: اقول والمراد بهذا القسم الاخير ما يكون توالده فی الماء ولا يموت من ساعته الخ دمدعا خلاف ثابت سو نه ثابتوونکی دمدعا زماپه ناقصه رایه سره، اودا هم لیکل سوی دی چی توالد دکلب الماء او تمساح هم داوبو څخه دباندي دی، او په تمساح کي یې لیکلي دي چي دباندي توالد کوي، هغه چي اوبو ته راسي تمساح سی اوهغه چی په وچه کی پاته سی نو سمساره سی، او ددرمختار عبارت: ومائی المولد ولو کلب الماء وخنزيره، به څنګه صحيح سی ولي چی کلب الماء

([1]) المشقة تجلب التيسير والأصل فيها قوله تعالى: يريد الله بكم اليسر ولا يريد بكم العسر، وقوله تعالى: وما جعل عليكم فى الدين من حرج، وفى الحديث: أحب الدين إلى الله تعالى الحنفية السمحة. قال العلماء يتخرج على هذه القاعدة جميع رخص الشرع وتخفيفاته. (الأشباه والنظائر ص۹۵ - ۹۲). ظفير

([2]) وقيل يفتى بمأتين إلى ثلث مائة وهذا أيسر (الدر المختار) جزم به في الكنز والملتقى وهو مروى عن محمد رحمه الله وعليه الفتوى خلاصه وتاتارخانيه عن النصاب وهو المختار معراج عن العتابيه وجعله فى العنايه رواية عن الإمام وهو المختار والأيسر كما فى الإختيار وافاد فى النهر أن المأتين واجبتان والمائة الثالثة مندوبة (رد المحتار فصل فى البئر ص۱۹۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۵). ظفير

دمائی المولد په سبب مشهور نه دی، علت ته راګرځی چي هرهغه حیوان چی داوبو دسطحی څخه لاندی دوامداره شپه او ورځ سکونت کوی، لکه دلجأة په شان چی په څاه کی همیشه تراوبو لاندی ژوند کولی سی، نو لجأة دم مسفوح نه لری اواوبه نه پلیتوی ځکه داوبو او دوینی په مابین کی تخالف دی، په خلاف دطیر الماء چي دغه رنګه ژوند او اوسیدنه په اوبوکی نه لری، دی داوبو دلوړی سطحی څخه همیشه او یا اکثره دباندي وی داوبو دسطحی څخه لاندی دوامداره سکونت نه لری: ثم الدلیل علی کون الدم معدومًا وما فی الحیوانات التی یسکن فی الماء لمضادة بین الماء والدم، مستخلص شرح کنز، که چیري قاعده ددرمختار اودشامی اودنورو مائی المولد په نظرکی ونیول سی نو لجأة باید لړي اوبه پیلتي نه کړی.

جواب: مولوی مکرم دام فضلکم! دمسنون سلام څخه وروسته هغه څه چی علامه دمیری په حیاة الحیوان کی دسلحفاة (کشف) په بیان کی نقل کړیدی جواب دهغه څخه دادی چی ممکنه ده چی یوقسم بحری کشف دغسی وی چی توالد او سکونت یی همیشه په اوبو کی وی، لیکن په حیوان کی چی مشاهده سی چی په اوبو کی دوامي سکونت لری نو دکنز دشرح مستخلص ددلیل پربناء هغه به دموی کی نه شمیرل کیږی او دخلاف په احتمال سره دا دلیل نه منقوض کیږی او همدغه تقریر په کلب الماء او خنزیر الماء کی هم جاری کیږی. فقط

<u>**سپی چی په څاه کي ولویږي ټولی اوبه ایستل کیږی اوکه نه؟**</u> **سوال**: (۲۱۷) که چیري سپی په څاه کی ولویږي اګر چی څاه عمیق وی اوهیڅ ثبوت نه وی چی دسپی مخ لمر ته ؤ اوکه نه ؤ یو څوك وایی چي داحالت شکی دی داوبو دنجاست حکم نه ورکوم احتیاطًا یوڅو بوکی ورڅخه راوباسئ، دویم کس وایی چی ټولی اوبه دڅاه څخه وباسی، نوپه دی صورت کی کم قول صحیح دی؟

جواب: په دی صورت کی احتیاط دټولو اوبو په ایستلو کی دی (۱) اوپر هم دی باندی فتوٰی ده چی دټولو اوبو پرځای په دری سوه **۳۰۰** معلومو بوکو ایستلو سره څاه پاکیږی کما هو قول الصاحبین (۲). فقط

(۱) لیس الکلب بنجس العین عند الإمام وعلیه الفتوی وإن رجح بعضهم النجاسة کما بسطه إبن الشحنة الخ ولو أخرج حیا ولم یصب فمه الماء لایفسد ماء البئر ولا صلوة حامله الخ وشرط الحلواني شد فمه (درمختار) والأصح أنه إن کان فمه مفتوحا لم یجز لأن لعابه یسیل الخ (رد المحتار باب المیاه ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۰۸). ظ
(۲) وقیل یفتی بمأتین إلی ثلاث مائة وهذا أیسر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۸، ط.س. ج۱ ص**۲۱۵**). ظفیر

په ناپاکه څاه کی چی بوکه واچول سی نو دبوکی څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۱۸) په څاه کي دعادت موافق بوکه داوبو راکښلو دپاره واچول سوه لیکن درا ایستلو څخه وروسته ښکاره سوه چی څاه دیوه حیوان په ورلویدلو سره پلیت سوی دی نوهغه بوکه پلیته سوه اوکه نه؟ دا بوکه چی په بل څاه کی واچول سی نوهغه څاه پاك پاته سو اوکه نه؟

جواب: دسوال ددی عبارت څخه چي (لیکن درا ایستلو څخه وروسته معلومه سوه الخ) واضحه ده چی دڅاه دناپاکی علم دبوکی درا ایستلو څخه وروسته وسو لهذا په قول دصاحبینو کم چی مفتٰی به دی هغه بوکه او اوبه کمی چی دنجاست دعلم څخه مخکی ایستل سوی دی هغه پاکی دی په درمختار کی دی: وقال من وقت العلم الخ فلا یلزمهم شیئًا قبله الخ (۱) یعنی صاحبین فرمایی چی دڅاه دنجس کیدلو حکم به په وخت دمعلوموالی کی ورکول کیږی اوکمی اوبه چی مخکی ووتلی هغه پاکی دی لهذا بوکه هم پاکه پاته سوه. فقط

دخاورو په لوښو کی که چیري دڅاه ناپاکه اوبه واچول سی نوهغه به څنګه پاکیږی؟ **سوال**: (۲۱۹) په پنجاب کی چی کم څاه دی پرهغه باندی سلو نژدی لوښی تړل سویدی اوپه غوایانو سره چلول کیږی که چیري دنجاست دلویدلو په وجه سره نوی خاورینی لوښی چی اوبه ورته نه وی رسیدلی دپاکولو دپاره اوبه دڅاه څخه را وایستل سی نوآیا هغه به پاکی سی اوکه نه؟ بعضو خلکو ویلی دی چی چونکه دغه نوی لوښی اجزاء جذبوی ددی وجه کله چی هغه داوبو سره ملاقی سی نوپلیتی اوبه به دهغو په اجزاؤ کی په ذریعه دمساماتو (کوچنیو کوچنیو سوریو) داخلی سی نوچی ترڅو پوری دغه لوښی په اور کی ونه سوزول سی نوهغه به پاکی نه سی داخبره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: ددرمختار ددې روایت چی: فینزح الماء الی حد لا یملاء نصف الدلو یطهر الکل تبعًا الخ په شرح کی علامه شامی لیکلی دی چی: قوله یطهر الکل ای من الدلو والرشأ والبکرة وید المستقی تبعًا لان نجاسة هذه الا شیاء بنجاسة البیر فتطهر بطهارتها للحرج کدن الخمر یطهر تبعا اذا صار خِلاً الخ (۲) نو ددې څخه معلومه سوه چی دخاورو مذکوره لوښی دڅاه دپاکولو څخه وروسته پاکی دی. فقط

خنزیر په څاه کي ولویدی اوهغه یی دوینی په بهولو سره مړ کړی نو ددغه څاه څه حکم دی؟

سوال: (۲۲۰) په څاه کي خنزیر ولویدی او دبرچې وغیره په وهلو سره هغه په څاه کی ووژل سو چی دهغه له امله دڅاه اوبه سرې سوی او دڅاه پر دیوال باندی دوینی څاڅکی

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ص۲۰۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۸. ظفیر

(۲) رد المحتار فصل في البئر ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۱۲. ظفیر

ولویدل نو ددغه څاه اوبه پاکی دی اوکه ناپاکی او ددغه څاه څخه چی کم کښت لره اوبه ورکړل سوی دی هغه ترکاری اوغله پاکه اوحلاله ده اوکه نه؟ او داوبو را ایستلو آلات پاك دی اوکه نه؟

جواب: دغه خنزیر دي دڅاه څخه وایستل سی اوبیا دي ټولی اوبه ددی څاه څخه وایستل سی نو بیابه دهغه اوبه پاکی سی، اوپر مفتٰی به قول ددوه ۲سوه بوکو څخه تر دری ۳سوه بوکو پوری اوبه ایستل دټولو اوبو دایستلو قائم مقام کیږی (۱) او بیابه څټه، دیوالونه، بوکه اورسی ټول پاك سی. کذا فی الدرالمختار (۲) اوکم کښت لره چی ددغه څاه اوبه ورکول سوی اګر که مخکی دپاکولو او اوبو ایستلو څخه وی بیا هم ددغه پټی غله او ترکاری پاك اوحلال دی (۳). فقط

دکم څاه څخه چی هندوان او مسلمانان دواړه اوبه وړی آیا هغه پاک دی؟ سوال: (۲۲۱) دیوڅاه څخه هندوان اومسلمانان دواړه اوبه وړی یو ملا دجواز اوبل دعدمِ جواز حکم کړی دی، نوشرعًا کم یوحکم صحیح دی

جواب: دجواز او داوبو دطهارت حکم صحیح دی (۴). فقط

چواړی (بنګی) چی پرڅاه باندي وخیژي نو څاه خو به نه پلیتیږي؟ سوال: (۲۲۲) په چمیار یا بنګی باندی لاس او پښی پریمنځل سوی دی اوپر څاه باندی دغټی بوکی دنیولو دپاره مقرر کړل سوی دی نو دغه اوبه او بوکه پاك دی اوکه نه؟

جواب: پاك دی (۵). فقط

---

(۱) إذا وقعت نجاسة الخ فی بئر دون القدر الکثیر الخ ینزح کل مائها الذي کان فیها وقت الوقوع بعد إخراجه الخ یطهر الکل الخ وقیل یفتی بمأتین إلی ثلاث مائة وهذا ایسر (درمختار) قوله قیل الخ جزم به فی الکنز والملتقی وهو مروی عن محمه رحمه الله وعلیه الفتوی خلاصه وتاتارخانیه عن النصاب وهو المختار معراج عن العنایه وجعله فی العتابیة عن الإمام وهو المختار والأیسر کما فی الإختیار افاد فی النهر أن الماتین واجبتان والمائة الثالثة مندوبة (رد المحتار فصل فی البئر ص۱۹۸ ج۱). ظفیر

(۲) ینزح کل مائها الخ یطهر الکل تبعا (درمختار) قوله یطهر الکل من الدلو والرشاء والبکرة وید المستقی تبعا بنجاسة البئر فتطهر بطهارتها (رد المحتار فصل فی البئر ص۱۹۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲). ظفیر

(۳) العبرة للطاهر من تراب او ماء اختلطا به یفتی (الدرالمختار فصل فی الإستنجاء ص۳۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۴۹). ظفیر

(۴) إن الیقین لا یزول بالشك. ظفیر

(۵) لأنه علیه الصلوة والسلام أنزل بعض المشرکین فی المسجد علی ما فی الصحیحین فالمراد بقوله تعالی: إنما المشرکون نجس، النجاسة فی اعتقادهم، بحر (ردالمحتار مطلب فی السور ج۱ ص۲۰۵، ط.س. ج۱ ص۲۲۲) ولو أدخل الکفار اوالصبیان ایدیهم لا یتنجس إذا لم یکن علی ایدیهم نجاسة حقیقة (غنیة المستملي ج۱ ص۱۰۱). ظفیر

دکم څاه څخه چې بنګي اونور اوبه وړي نو دهغه اوبه پاکي دي اوکه ناپاکي؟ سوال: (۲۲۳) دڅاه څخه چې بنګي وغيره اوبه وباسي ددغه څاه اوبه حلالي دي اوکه نه؟

جواب: کله چې دهغوی پر لاسونو باندی په دغه وخت کی څه نجاست نه وی نوحلالي دی (۱). فقط

په لوښي کی يې متيازي وکړی اوپر څاه يې واچولي؟ سوال: (۲۲۴) يوهلك په لوښي کې متيازي وکړی اوپه څاه کی يې واچولي ، نوپه څومره بوکو ايستلو سره به څاه پاك سی؟

جواب: اوس پردری ۳ سوه بوکو ايستلو باندی فتوٰی ده په دری ۳ سوه بوکو ايستلو سره به څاه اواوبه به يې پاکي سی (۲). فقط

په څاه کی دمړی نجاست راووتي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۲۵) په يوڅاه کی دمړ سړی لاس پيدا سو نو دهغه په پښه کی يې رسۍ وتړله اورا ويی ايستی، نو دهغه دمقعد څخه يوه ګوته اوږد نجاست ووتی اوپه څاه کی ولويدی نوپه دی صورت کی دڅاه څخه څومره اوبه ايستل په کار دی؟

جواب: په دی صورت کی چونکه په څاه کی عين نجاست دمړی يعنی ګندګی وغيره هم لويدلي ده، ددی وجه دي دغه څاه يوڅو ورځی همدغسی پريښودل سی چې په هغه کی ګندګی وغيره دخاوری سره يوځای سی اوخاوره سی، اويا په اوبوکی ګډه سی، اوکه چيري دغه ګندګی ايستل کيدی سوه نوهغه دي وايستل سی او دهغه څخه وروسته دي دڅاه څخه ټولي اوبه وايستل سی، اوفتوٰی پردی باندی ده چې ددوه ۲سوه بوکو څخه تردری ۳سوه بوکو پوری داوبو په ايستلو سره دټولو اوبو دايستلو حکم کيږی دسهولت او آسانتيا دپاره، نجاست چې دختي سره وايستل سی اوبيا دومره وخت تيرسی چې دغه نجاست ختم اوبيا خاوره سی نوسل بوکی به ورڅخه وباسی نوپه دی سره به څاه پاك او داستعمال دپاره به يې اوبه سمی سی. په شامی کی دی: وأشار بقوله متنجسة

---

(۱) ولو ادخل الکفار والصبيان ايديهم لا يتنجس إذا لم يکن على ايديهم نجاسة حقيقية (غنية المستملي فصل في احکام الحياض ص۱۰۱). ظفير

(۲) مفتی علام په (ايسر) باندي عمل کړي دي اوپه دري سوه بوکو ايستلو باندي يې فتوی ورکړيده کنې که چيري څاه چينه دار نه وي نو دټولو اوبو ايستل ضروري دي همدا احتياط دی، يا بايد په دوو داسي ثقه سړيو باندي اندازه معلومه کړي چې په دي کارکي بصيرت، پوهه او زيرکتيا لري، او بيا په هغومره مقدار اوبه وباسي: إذا وقعت نجاسة فی بئر دون القدر الکثير الخ ينزح کل مائها الخ وإن تعذر نزح کلها لکونها معينا فبقدر ما فيها يؤخذ ذلك بقول رجلين عدلين لهما بصارة بالماء به يفتى وقيل يفتى بمأتين إلى ثلث مائة وهذا ايسر وذاك احوط (درمختار) قوله ذاك احوط ای ما فی المتن احوط للخروج عن الخلاف ولموافقة الآثار (رد المحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۸، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ – ۲۱۲). ظفير

إلى أنه لا بد من إخراج عين النجاسة كلحم ميتة وخنزير اه قلت: فلو تعذر أيضا ففي القهستاني عن الجواهر لو وقع عصفور فيها فعجزوا عن إخراجه فمادام فيها فنجسة فتترك مدة يعلم أنه استحال وصار حمأة (۱) الخ وفى الدر المختار وقيل يفتى بمأتين الى ثلث مائة وهذا ايسر وقال في الشامي قوله: وقيل جزم به في الكنز والملتقى وهو مروى عن محمد رحمه الله وعليه الفتوٰى الخ (۲). فقط

دناپاکه څاه دپاکولو څه طریقه ده؟ سوال: (۲۲۲) یوڅاه دشپړو کالو را په دی خوا پلیت پروت دی چی په دي کی څو سپیان اوځو حیوانان لویدلی دی ، نو ددی دپاکولو څه طریقه ده؟

جواب: ددی څاه دپاکولو صورت دادی چی په څاه کی کم مردار حیوان وغیره دی هغه به ټول وایستل سی، او بیابه دڅاه ټولی اوبه وایستل سی اوبهتره داده چی دڅاه څخه ټوله خټه وایستل سی څومره چی ایستل کیدی سی بیا چی کمی اوبه دی څاه ته راځی هغه به پاکی وی اوخټه ایستل دپاکوالی دپاره ضروری نه دی، البته دصفایی په وجه یی ایستل بهتر کاردی. (۳) فقط

په کم څاه کی چی دچرګی ګندګی ولویږي نو دهغه دپاکولو څه طریقه ده؟ سوال: (۲۲۷) که چیري په څاه کی دچرګی ګندګی ولویده نوڅومره بوکی ایستل په کاردی ؟

جواب: دچرګی دګندګی په څاه کی په لویدلو سره دری ۳ سوه بوکی اوبه را ایستل په کاردی او اول دهغی ګندګی ایستل په کاردی (۴). فقط (که نه سی ایستل کیدی نوځو ورځی دي پریښودل سی چی ورژیږی بیا دي پاك کړل سی. ظفير)

دناپاک څاه څخه چی کښت اوبه کړل سی نوڅاه هم پاک سو اوکه نه؟ سوال: (۲۲۸) یوڅاه چی داوږدی مودی څخه همداسی پروت ؤ ، اوپه هغه کی ځوحیوانان هم ولویدل اوخوسا سول اوورژیدل اوس دڅاه مالك مځکه دهقانانوته ورکړه ددی څاه دپاره نوددوو میاشتو

---

(۱) رد المحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۱۲. ظفير

(۲) رد المحتار فصل فی البئر جلد اول ص۱۹۸، ط.س. ج۱ ص۲۱۵. ظفير

(۳) إذا وقعت نجاسة الخ فی بئر دون القدر الكثير الخ ينزح كل مائها الخ بعد اخراجه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۱). ظفير

(۴) اذا وقعت نجاسة فی بئر دون القدر الكثير الخ ينزح كل مائها بعد إخراجه إلا إذا تعذر كخشبة أو خرقة متنجسة فينزح الماء إلى حد لايملأ نصف الدلو يطهر الكل تبعا الخ وقيل يفتى بمأتين الى ثلاث مائة وهذا ايسر (درمختار) وأشار بقوله متنجسة إلى انه لا بد من اخراج عين النجاسة كلحم ميتة وخنزير آه قلت فلو تعذر ايضا ففى القهستاني عن الجواهر لو وقع عصفور فيها فعجزوا عن إخراجه فما دام فيها فنجسة فتترك مدة يعلم أنه إستحال وصار حمأة (ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ – ۲۱۲). ظفير

څخه څاه چلیږي اوبه ورکوي نودغه څاه پاك سو اوكه نه؟

جواب: كه چیري دغه څاه دمړو حیوانانو څخه صفا سوی وی او دهغه داوبو څخه په قدر ددری ۳ سوه بوکو اوبه وایستل سی نوهغه باقی پاته اوبه پاکی دی (۱). فقط

چی چرګه دڅاه څخه ژوندی را ووزی نو څومره اوبه به را ایستل کیږی؟ **سوال**: (۲۲۹) دڅاه څخه چرګه ژوندی را ووتله نو داوبو درا ایستلو به څه حکم وی؟

جواب: دداسی څاه حکم دادی چی دشك په وجه سره احتیاطًا شل بوکی اوبه ایستل په کاردی کما فی الدرالمختار فینزح ادنی ما ورد به الشرع وذلك عشرون احتیاطًا. (۲) فقط

دکم ناپاکه څاه څخه چی هندوان په ډیر مقدار اوبه خرچی کړی نو هغه پاک سو اوکه نه؟

سوال: (۲۳۰) په یوه څاه کی تقریبًا دیرش پنځه دیرش لاسه اوبه دی په دغه څاه کی یو څوك ولویدی اومړ سو، چونکه ذکر سوی څاه دهندوانو ؤ، تقریبًا څلویښت پنځوس بوکی یې را وایستلي او استعمال یې شروع کی، ټوله ورځ هندوان ددغه څاه څخه اوبه وړی، چی تقریبا دوه ۲ سوه منه پخې اوبه روزانه بلا ناغه ایستل کیږی، نوپه دی اندازه اوبو ایستلوسره به داڅاه کله پاك سی؟

جواب: څاه وروسته دمقدار واجبه ایستلو څخه پاك سو: ولو نزح بعضه ثم زاد فی الغد نزح قدر الباقی فی الصحیح خلاصه الخ، درمختار، ومثله فی الخانیة وهو مبنی علی انه لا یشترط التوالی وهو المختار الخ. (۳) شامی ص۲۱۹ ج۱). فقط

په وینو ککړ حیوان په څاه کی ولویدی نوڅاه پلیت سو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۳۱) ۱: که چیري یو حیوان دتسمیی (بسم الله) سره په غچی او یاپه نورو تیره آلاتو باندی ووهل سو، یا معلّم سپی باندی ورایله کړل سو اوهغه په وینو ککړ سو اوپه څاه کی ولویدی نوڅاه پاك دی اوكه ناپاك؟ اوددی څاه څخه به څومره اوبه را ایستل کیږی؟

۲: په څومره وینی لویدلو سره به څاه پلیتیږی؟

جواب: ۱: څاه ناپاکه دی او دری ۳ سوه بوکی دي ورڅخه را وایستل سی. (۴)

(۱) ینزح کل مائها بعد اخراجه الخ وقیل یفتی بمأتین الی ثلاث مائة وهذا ایسر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل في البر ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۱۲ – ۲۱۵). ظفیر

(۲) ردالمحتار فصل في البئرج۱ ص۱۹۷، ط.س. ج۱ ص۲۱۴. ظفیر

(۳) وګوری: ردالمحتار فصل في البئر ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۱۲. ظفیر

(۴) و(۵) إذا وقعت نجاسة لیست بحیوان ولو مخففة او قطرة بول اودم اوذنب فارة الخ فی بئر دون القدر الکثیر الخ ینزح کل مائها الذی کان فیها وقت الوقوع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۴، ط.س. ج۱ ص۲۱۱). ظفیر

۲: بهیدونکی وینه نجسه ده یوه قطره یی هم نجس کوی (۱). فقط

دیوی مودی څخه ناپاکه څاه به څنګه پاک سی؟ **سوال**: (۲۳۲) یوڅاه تقریبًا دشلو کالو دمودی څخه بند پروت دی دبندوالی وجه یی داوه چی په دي کی یوخنزیر ولویدی اوهغه مړ سو، بیا معلومه نه ده چی هغه ایستل سوی ؤ اوکه نه؟ اوس څاه پاك کړل سو، نو داوبو اودخټو دایستلو څخه وروسته دهغه داوبو څیښل او استعمالول درست دی اوکه نه ؟

جواب: دپاکولو څخه وروسته اوداوبو اودخاوری دایستلو څخه وورسته هغه څاه پاك سو، دهغه اوبه پاکی دی او دهغو څیښل او استعمالول درست دی (۲). فقط

دډمی جوړ کړل سوی څاه او دهغه حکم: **سوال**: (۲۳۳) که چیري یوه ډمه څاه جوړ کړی نو دهغه څخه اودس کول اوغسل کول جائزدی اوکه نه ؟

جواب: درست دی (۳). فقط

په کم څاه کی چی دبزې بچی ولویږي اومړ سی اوپه هغه کی خوسا سی دهغه دپاکولو طریقه: **سوال**: (۲۳۴) زموږ په څاه کي دری میاشتی کیږی چی دبزې دوه بچیان دلسو ورځو په موده یو په بل پسې ولویدل، څرنګه چی څوك را ایستونکی موجود نه ؤ، نوهغوی په څاه کی دخوسا کیدلو او درزیدلو څخه وروسته ورك سول ، څلور پنځه ورځی دهغه څاه څخه اوبه راوکښل سوې مګر اوبه خلاصی نه سوی، نوپه داسی صورت کی ددی څاه دپاکولو طریقه څه ده ؟

جواب: په داسی کی صورت کی فقهاؤ دالیکلی دی چی دغه څاه دس تردومره مودی پوری پریښودل سی چی هډوکی یی وراسته سی اوخاوری سی او ددی موده یی شپږ میاشتی لیکلی ده، ددغه څخه وروسته دي ددغه څاه اوبه را وایستل سی ، او ددری ۳ سوه بوکو په را ایستلو سره به څاه پاك سی. (۴) فقط

---

(۲) إذا وقعت نجاسة الخ فی بئر دون القدر الكثیر الخ ینزح كل مائها الذي كان فیها وقت الوقوع بعد إخراجه (درمختار) واشار بقوله متجنسة إلى أنه لابد من اخراج عین النجاسة كلحم میتة وخنزیر آه قلت فلو تعذر ایضا ففی القهستاني عن الجواهر لو وقع عصفور فیها فعجزوا عن إخراجه فما دام فیها فنجسة فتترك مدة یعلم أنه إستحال وصار حمأة وقیل مدة ستة اشهر (ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۵ – ۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ – ۲۱۲). ظفیر

(۳) ځکه چي دهغه اوبه پاکی دي: وتجوز الطهارة الحكمیة بماء مطلق الخ طاهر الخ كماء السماء الخ وماء الاودیة ای الأنهار وماء العیون ای الینابیع وماء الآبار الخ (غنیة الستملي باب المیاه ص۸۷). ظفیر

(۴) ففي القهستاني عن الجوهرة لو وقع عصفور فیها فعجزوا عن اخراجه فمادام فیها فنجسة فتترك مدة یعلم انه استحال وصار حمأة وقیل مدة ستة اشهر (ردالمحتار فصل في البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲). ظ

سر پریکړي مړه چي دڅاه څخه راووزي نوحکم یې څه دی؟ سوال: (۲۳۵) دیوه څاه څخه سر پریکړي مړه تازه راووتله نو دهغه دپاکوالی دپاره به څومره اوبه را ایستل کیږي؟ ځکه چي په څاه کی خوبه دمړي وینه هم لویدلی وی؟

جواب: په دی صورت کی ددوه ۲ سوه څخه تردری ۳ سوه بوکو پوری اوبه به ددغه څاه څخه را ایستل کیږی نو بیابه پاك سی لکه چي په شامی کی دی: قوله وقيل يفتى بمائتين الى ثلث مائة إلخ جزم به في الكنز والملتقى وهو مروي عن محمد رحمه الله تعالى وعليه الفتوى خلاصة وتاتارخانية عن النصاب وهو المختار معراج عن العتابية وجعله في النهاية رواية عن الإمام وهو المختار والأيسر كما في الاختيار وأفاد في النهر أن المائتين واجبتان والمائة الثالثة مندوبة الخ. ([۱]) فقط

دناپاکه څاه سره چي کم څاه پیوست دی دهغه حکم: سوال: (۲۳۶) ددی کلی په مینځ کی یوڅاه دی خو مستعمل نه دی او ناپاکه دی دهغه سره پیوست دیوڅو گزو په اندازه باندی دجومات په احاطه کی یونوی څاه تعمیر سوی دی، نو داول څاه دناپاکی اثر به پردوهم څاه هم کیږی اوکه نه؟

جواب: دجومات دڅاه اوبه ددویم څاه دنژدیوالی په وجه نه ناپاکیږی ځکه چي بالاتفاق داثابته ده چي دیو څاه په ناپاکیدلو سره ددویم څاه اوبه نه ناپاکیږی، اوپه دي کی څه تحدید نه دی سوی ([۲]) اوکم بحث چي سوی دی هغه دویالی جوړولو دڅاه په خوا کی سوی دی نه په څاه کي ([۳]). فقط

دغیر محتاط څاه اوبه: سوال: (۲۳۷) په دی ملك کی په څاه کي احتیاط نه ستنه آیا دمسافر اومقیم دپاره دبلوٰی په وجه سره په داسی اوبو باندی اودس غسل، ځیښل اوخوړل یې درست دی اوکه نه؟

جواب: دداسی څاه په اوبو سره اودس، غسل، ځیښل اوخوړل جائز دی او وهم کول نه دی په کار. ([۴]) فقط

([۱]) ردالمحتار كتاب الطهارة باب المياه فصل في البئر ص۱۹۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۵. ظفير

([۲]) بئر الماء إذا كانت بقرب البئر النجسة فهي طاهرة ما لم يتغير طعمه أو لونه أو ريحه كذا في الظهيرية ولا يقدر هذا بالذرعان حتى إذا كان بينهما عشرة اذرع وكان يوجد في البئر اثر البالوعة فماء البئر نجس وان كان بينهما ذراع واحد ولا يوجد اثر البالوعة فماء البئر طاهر كذا في المحيط (عالمگيري كشوري ماء الآبار ج۱ ص۱۹، ط. ماجدية ج۱ ص۲۰). ظفير

([۳]) وان اراد ان يحفر بيرا بالوعة يمنع ايضا لسراية النجاسة الى البئر الاولى وتنجيس مائها ولا يمنع في ما وراء الحريم وهو عشر في عشر (شرح وقاية كتاب الطهارة ص۸۸ ج۱). ظفير

([۴]) اليقين لا يزول بالشك (الاشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵). ظفير

مستعمل پاک جارو په څاه کي ولويدي نوڅاه پاک دي اوكه ناپاک؟ **سوال:** (۲۳۸) دجومات داودس کولو په نالی کی چی کم جارو وهل کیږی هغه یی پاك کړی وو او اینبی یی وو هغه په څاه کی ولویدی نوڅاه پاك دی اوکه ناپاکه زید وایی چی په مینځلو سره هر شی پاکیږی لهذا څاه په دی صورت کی پاك دی؟

جواب: په دی صورت کی دغه څاه پاك دی اودزید قول صحیح دی. (۱) فقط

هندو په څاه کي غوټه ووهله نوڅاه به پاک وي اوكه نه؟ **سوال:** (۲۳۹) که چیري یو هندو دبوکې یا دبل څه درا ایستلو دپاره څاه ته کښته سي او غوټه یې ووهله او را ویی ایستله نوڅاه پاك دی اوکه نه؟

جواب: فی الشامی نقل فی الذخیرة ان الکافر اذا وقع في البئر وهو حی نزح الماء وفی البدائع انه روایة عن الامام لانه لا یخلوعن نجاسة حقیقة او حکمیة حتی اغتسل فوقع فیها من ساعة لا ینزح منها شيء اقول ولعل نزحها للاحتیاط الخ شامی (۲) ای فیما وقع بلا غسل، پس معلومه سوه چی که کافر چیري وروسته دغسل څخه په څاه کی ننوزی او غوټه یی ووهله نو اوبه نه ناپاکیږی البته که چیري بغیر دغسل څخه هغه څاه ته ورکښته سی نو احتیاطاً به داوبو ایستلو حکم کیږی، اوپه شامی کی یی دسور په بیان کی نقل کړیدی: ولا یشکل نزح البئر به لو اخرج حیاً لان ذلك لما علیه فی الغالب من النجاسة الحقیقة او الحکمیة کما قدمناه (۳) ددې څخه معلومه سوه چی په بلا غسل ننوتلو سره اوبه ایستل احوط دی. فقط

که په څاه کي دانسان وينه ولويده نوپاک دي اوكه نه؟ او څومره اوبه ايستل په کاردي؟

سوال: (۲۴۰) که چیري په څاه کی دانسان وینه توی سی نوټولی اوبه به ایستل کیږی اوکه نه دری ۳ سوه بوکی؟ اوپرله پسی را ایستل شرط دی اوکه نه؟

جواب: دری ۳ سوه بوکی راوتل کافی دی دا قائم مقام دټولو اوبو راوتلو دی اوپه دی سره به څاه پاك سی پرهمدی باندی فتوٰی ده، په شامی کی یی ویلی دی: وعلیه الفتوٰی وهو المختار والایسر (۴) اوپرله پسی بوکی ایستل شرط دی. (۱) فقط

---

(۱) دپاك شي په لويدلو سره څاه نه مرداريږي: يجوز الطهارة بماء خالطه شيء طاهر الخ والماء الذي يختلط به الأشنان او الصابون اوالزعفران بشرط ان تكون الغلبة للماء الخ هذا إذا لم يزل عنه إسم الماء الخ وهو الضابط عند مخالطة الأشياء الجامدة للماء من غير طبخ إلخ فحكمه حكم الماء المطلق يجوز به الوضوء (غنية المستملي فصل في أحكام المياه ص۱۸۷ ج۱). ظفير

(۲) رد المحتار فصل فی البئر تحت قوله کآدمی محدث الخ جلد اول ص۱۹۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۴. ظفیر

(۳) رد المحتار تحت قوله او کافر فصل فی البئر مطلب فی السور ج۱ ص۲۰۵، ط.س. ج۱ ص۲۲۲. ظفیر

(۴) رد المحتار فصل فی البئر ص۱۹۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۴. ظفیر

په کم ځاې کې چې په څاه کې ډيري اوبه وې هلته ناپاکه څاه څنګه پاک کړل سي؟ سوال:

(۲۴۱) په پاني پت ښارکې ډېرو څاهانو اوبه کمې وې اواوس دومره زياتې سوې دې چې که چيري څاه ناپاك سي نوپه يو نيم زر بوکو را ايستلو سره هم څاه نه ماتيږي ددې وجه سخته پريشاني وې که دسهولت څه لاره وې هغه دي راته وښودل سي؟

جواب: زموږ دحضراتو اکابرو حضرت مولانا محمد يعقوب اوحضرت مولانا شيخ الهند قدس سرهما وغيرهما پردې باندې اتفاق دی چې ددوو ۲ سوو څخه تردرو سوو پوري په بوکو ايستلو سره دڅاه اوبه پاکيږي او دسهولت په وجه په همدې فتوٰی ورکول کيږي اودلته هميشه په همدې باندې عمل سوی او اوس هم دی. ([2]) فقط

سلواغه يې دلاری په خاورو سره ومورله اوپه څاه کې يې واچوله نوڅاه ناپاکه سو: سوال:

(۲۴۲) يو هندو دخپلې اوسپنې بوکه دلارې پرخاوره ومورله اوپه څاه کې يې واچوله هغه خاوره دهغه څاه په اوبو کې دننه ګډه سوه اوس ددې څاه اوبه څيښل جائزدی اوکه نه؟

جواب: ددې څاه اوبه پاکي دي او څيښل يې او اودس په کول جائز دي ځکه چې اولاً خاوره که چيري وچه سي نوپاکيږي کما ورد فی الحديث زکوٰة الارض يبسها ([3]) او دويم

([1]) لا يشترط التوالي وهو المختار كما في البحر والقهستاني (رد المحتار فصل في البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۳). ظفير

([2]) وإن تعذر نزح كلها لكونها معينا فبقدر ما فيها وقت إبتداء النزح قال الحلبي ويؤخذ ذلك بقول رجلين عدلين لهما بصارة بالماء به يفتى وقيل يفتى بمأتين إلى ثلاث مائة وهذا ايسر وذاك احوط (درمختار) قوله وقيل يفتى الخ جزم به في الكنز والملتقى وهو مروي عن محمد وعليه الفتوى خلاصة وتتارخانية عن النصاب وهو المختار معراج عن العتابية وجعله في العناية رواية عن الإمام وهو المختار والأيسر كما في الاختيار وأفاد في النهر أن المائتين واجبتان والمائة الثالثة مندوبة فقد اختلف التصحيح والفتوى وضعف هذا القول في الحلية وتبعه في البحر بأنه إذا كان الحكم الشرعي نزح الجميع فالاقتصار على عدد مخصوص يتوقف على دليل سمعي يفيده وأين ذلك بل المأثور عن ابن عباس وابن الزبير خلافه حين أفتيا بنزح الماء كله حين مات زنجي في بئر زمزم وأسانيد ذلك الأثر مع دفع ما أورد عليها مبسوطة في البحر وغيره قال في النهر وكان المشايخ إنما اختاروا ما عن محمد لانضباطه كالعشر تيسيرا كما مر اهـ قلت: لكن مروياتي أن مسائل الآبار مبنية على اتباع الآثار وعلى أنهم قالوا إن محمدا أفتى بما شاهد في آبار بغداد فإنها كثيرة الماء وكذا ما روي عن الإمام من نزح مائة في مثل آبار الكوفة لقلة مائها فيرجع إلى القول الأول لأنه تقدير ممن له بصارة وخبرة بالماء في تلك النواحي لا لكون ذلك لازما في ابار كل جهة والله اعلم (رد المحتار فصل في البئر ج۱ ص۱۹۸) ددې تفصيل سره دا هم معلوميدل پکار دي: وفي عمدة الأحكام عن كشف البزدوي يستحب للمفتي الأخذ بالرخص تيسيرا على العوام ثم وينبغي للمفتي ان يفتى الناس بما مر أمهل عليهم وينبغي للمفتى ان يأخذ بالأيسر في حق غيره خصوصا في حق الضعفاء لقوله عليه السلام لأبي موسى الأشعري ومعاذ حين بعثهما إلى اليمن يسرا ولا تعسرا (عقد الجيد للشاه ولي الله الدهلوي ص۷۳ – ۷۴). ظفير =

دفقهي قاعده ده چې اليقين لا يزول بالشك (۱) الحاصل دا چې دغه اوبه پاکې دي (۲). فقط

په څاه کې سپي ولويدی اومړ سو نو خلکو پنځه فته اوبه را وايستلې نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۴۳) په يوڅاه کې سپي ولويدی اومړ سو نوپنځلس ورځې وروسته دهغه اوبه وايستل سوی، بعضو خلګو وهم وکی اوهغه يې پاك ونه ګڼې دهغه څخه وروسته يې ورباندی ډير کسان لګيا کړل او اوبه وايستل سوی نودا څاه پاك سو اوکه نه؟

جواب: مفتی به مذهب په دی باره کې دادی چې داسې څاه ددری ۳ سوه بوکو په ايستلو سره پاکيږي، لهذا کم وخت چې پنځه سوه بوکې اوبه وايستل سوی هم دغه وخت ددی څاه اوبه پاکې سوی ځکه چې ظاهرا دپنځو فتو داوبو مقدار به ددری ۳ سوه بوکو څخه زيات وی، په هرحال ددغه څاه اوبه پاکې دی ځکه چې دوباره ددغه څاه ډيری اوبه وتلی دی دده په پاکوالی کې هيڅ شبه پاته نه ده كذا فى الدرالمختار (۳)، نو په موجوده حالت کې ټولو مسلمانانوته ددی څاه اوبه استعمالول درست دی اوهيڅ وهم دي نه کوی. فقط

بې کاره او ناپاکه څاه به څنګه صفا کيږي؟ سوال: (۲۴۴) يوڅاه په کم کې چې ۴۰ يا ۵۰ لاسه اوبه دی دپنځلسو شپاړسو کالو راهيسې بيکاره پروت دی ، اوپه داسې موقع باندی چې چرخ نه سی پر چليدلی لهذا دده دصفايی او دپاکوالی څه طريقه ده؟

جواب: دڅاه دپاکيدو مسئله خودا ده چې که چيري په څاه کې څه نجاست ولويږي نو دهغه نجاست دايستلو څخه وروسته دهغه څخه دری ۳ سوه بوکې اوبه که چيري وايستل سی نوهغه څاه به پاك سی ليکن که هغه څاه همداسی وران پروت وی چې په هغه کې نجاستونه اونور هرڅه شيان اچوی اوهغه نجاستونه وتلی نه وی نوبيا به ددغه څاه ټولی اوبه موجوده وايستل سی اوکه چيري خاوره وتلی سی نو بهتره ده کنی خير دی (۴). فقط

په څاه کې ماشوم ولويدی را وايستل سو نو داوبو څه حکم دی؟ سوال: (۲۴۵) په يوڅاه کې

---

(۳) (دمخکي صفحې) و (۱) (ددې صفحې) الأشباه والنظائر القاعدة الثالثه ص۷۵. ظفير

(۲) وتطهر ارض بخلاف نحو بساط بيدها اى جفافها ولو بريح وذهاب أثرها كلون وريح الخ ثم هل يعود نجسا ببله بعد فركه المعتمد لا وكذا كل ما حكم بطهارته بغير مائع (درمختار) اى كالدلك فى الخف والجفاف فى الأرض (ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۲۸۲ – ۲۸۹، ط.س. ج۱ ص ۲۱۱ – ۲۱۴)، ظفير

(۳) إذا وقعت نجاسة الخ فى بئر دون القدر الكثير الخ اومات فيها الخ ينزح كل مائها الخ بعد إخراجه الخ وقيل يفتى بمأتين إلى ثلاث مائة وهذا ايسر (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل فى البئر ج۱ ص۱۹۸، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ – ۲۱۲ – ۲۱۴). ظفير

(۴) إذا وقعت نجاسة الخ فى بئر دون القدر الكثير الخ نزح كل مائها بعد إخراجه الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فى البئر ص۱۹۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ – ۲۱۲). ظفير

یو نابالغه ماشوم ولویدی او فوراً یې را وایستی، زموږ دجومات امام دټولو اوبو دایستلو حکم کوی په دي کی ډیره دشواری ده نوموږ ته څه کول په کاردی ؟
جواب: ددی څاه څخه دي دری ۳ سوه بوکی وایستل سی نوپه دی سره به دغه څاه پاك سی، کذا فی الدرالمختار وغیره [1]. فقط (په دی شرط چی هغه ماشوم دلویدلو څخه وروسته مړ سوی وی یا دهغه پربدن نجاست لګیدلی وی. ظفیر)

دپښو خیری چی درسی، سره ولګیږی اوپه اوبو کی وڅاڅی نوڅاه به ناپاکه سی اوکه نه؟

سوال: (۲۴۶) لڅی پښې داوبو را ایستل اوبیا چی دپښو خیری درسی، سره ولګیږی اوپه څاه کی وڅاڅی نوڅاه پاك دی اوکه ناپاکه؟
جواب: په شبهی اوپه شك سره څاه نه پلیتیږی بیا هم احتیاط کول ښه دی [2]. فقط

ماشوم ورولویدی او ژوندی را وایستل سو نو څاه پلیت سو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۴۷) یو ماشوم په څاه کی ولویدی او پنځلس منټه وروسته هغه ژوندی را وایستل سو چی دهغه په اړه دډاکټر او را ایستونکی شهادت موجود دی، نوپه دی صورت کی به څاه پاك وی اوکه ناپاکه؟ که چیري ناپاکه سوی وی نوڅومره اوبه را ایستل په کاردی؟
جواب: که چیري هغه هلك ژوندی را وایستل سو څرنګه چی دډاکټر او درا ایستونکی دبیان څخه ثابته ده نوهغه څاه پاك دی او دهیڅ ځو بوکو درا ایستلو ضرورت نسته ، البته که چیري دهغه جامی یا بدن ناپاکه وی په غالب ګمان سره لکه څنګه چی دماشومانو دا وی نو دری ۳ سوه بوکی به ددغه څاه څخه ایستل کیږی [3] اوکه چیري

([1]) که هلك په اوبو کي ولویدی اومړ سو نو دري سوه بوکی دي وباسي اوکه ژوندی وي نو شل یا دیرش بوکی دي وباسی اودا هم احتیاطا: وان مات فیها شاة اوکلب او ادمی وانتفخ حیوان او تفسخ ینزح جمیع ما فیها (عالمگیري کشوري ماء الآبار ج۱ ص۱۷، ط. ماجدیة ج۱ ص۱۹) قید بالموت لأنه لو اخرج حیا ولیس بنجس العین ولابه حدث او خبث لم ینزح شيء إلا أن یدخل فمه الماء فیعتبر بسؤره فان نجسا کان نزح الکل والا لا هو الصحیح الخ زاد فی التاتارخانیة وعشرین فی الفارة واربعین فی سنور ودجاجة مخلاة کذا کآدمی محدث (درمختار) ای انه ینزح فیه اربعون الخ فینزح ادنی ما ورد به الشرع وذلك عشرون احتیاطا (ردالمحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۱۲). ظفیر

([2]) کما لو مشی علی الواح مشرعة بعد مشي من برجله قذر لایحکم بنجاسة رجله مالم یعلم أنه وضع رجله علی موضعه للضرورة فتح وفیه عن التجنیس مشی فی طین او اصابه ولم یغسله وصلی تجزیه ما لم یکن فیه أثر النجاسة لأنه لا مانع إلا ان یحتاط (رد المحتار تحت قوله مشی فی حمام الخ فصل فی الإستنجاء ج۱ ص۳۲۴، ط.س. ج۱ ص۳۵۰). ظفیر

([3]) او مات فیها الخ حیوان دموی غیر مائي وانتفخ الخ ینزح کل مائها الخ قید بالموت لأنه لو أخرج حیا ولیس بنجس العین ولا به حدث او خبث لم ینزح شيء إلا ان یدخل فمه الماء فیعتبر بسوره فان کان نجسا نزح الکل وإلا لا هو الصحیح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۵ – ۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ – ۲۱۲). ظ

هغه ماشوم په څاه کی مړ سوی وی بیاهم ددری ۳ سوه بوکو په را ایستلوسره به هغه څاه پاك سی، په هرحال احتیاط په همدی کی دی چی دری ۳ سوه بوکی ددغه څاه څخه وایستل سی که په یوځل وی اوکه متفرقی: وقیل یفتی بمأتین الی ثلث مائة درمختار، وجزم به فی الکنز والملتقی وهو المروی محمد رحمه الله تعالی وعلیه الفتوی الخ، شامی (۱). فقط

دړمی او دبی نمازی په اوبو را ایستلو سره څاه نه پلیتیږی: **سوال:** (۲۴۸) دړمی او دبی نمازانو په اوبو را ایستلو سره څاه پلیتیږی اوکه نه؟

جواب: په دې سره اوبه نه پلیتیږی ، اوبه خو دمشرکانو په را ایستلو سره هم نه پلیتیږی (۲). فقط

دڅاه څخه چی پړسیدلی چرګ را وایستل سی نوڅاه ناپاکه سو: **سوال:** (۲۴۹) یوچرګ دڅاه څخه پړسیدلی راووتی وزری یی ورژیدلی ، نو ددی څاه څخه څومره اوبه را ایستل کیږي؟

جواب: په دی صورت کی دټولو اوبو دایستلو حکم دی لیکن دټولو اوبو دایستلو پرځای صاحبین رحمهما الله ددوه ۲ سوه څخه تردری ۳ سوه بوکو پوری را ایستل کافی ګڼی اوپر همدی باندی فتوٰی ده نو احتیاطًا دی دری ۳ سوه متوسطی بوکی اوبه وایستل سی کمی اوبه چی باقی پاته سی هغه پاکی دی او دڅاه بوکه او دیوالونه او رسی ټول پاکیږی: وقیل یفتی بمأتین الی ثلث مائة الخ درمختار ، وهو المروی عن محمد رحمه الله وعلیه الفتوی الخ وهو المختار الخ وافاده فی النهر ان المأتین واجبتان والمائة الثالثه مندوبة الخ شامی. (۳) فقط

په ناپاکه کنده کی یی لوښی ډوب کی اوپه څاه کی یی واچوی ددی څه حکم دی؟ **سوال:** (۲۵۰) په یوه کنده کی بول اوبراز پراته دی په دې کی دباران اوبه جمع سوی او ونه بهیدلی په هغه کی هلکانو لوښی ډوب کی او بیایی په څاه کی واچوی نوڅومره اوبه به ورڅخه ایستل کیږی لوښی په څاه کی موجود دی.

جواب: په دی صورت کی به هم دڅاه څخه دری ۳ سوه بوکی ایستل کیږی اوهغه لوښی دي مخکی وایستل سی. (۴) فقط

---

(۱) رد المحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۸، ط.س. ج۱ ص۲۱۵. ظفیر

(۲) ځکه چي ددې خلګو په اوبو راکښلو سره دڅاه په اوبو کي څه خرابي نه پیدا کیږي، ټول انسانان پاك دي اودهغوی پس خورده هم پاکه ده: فسؤر ادمی مطلقا ولوجنبا وکافرا او امرأة الخ طاهر طهور بلا کراهة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی السؤر ج۱ ص۲۰۵، ط.س. ج۱ ص۲۲۲). ظفیر

(۳) رد المحتار فصل فی البئر ص۱۹۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ – ۲۱۲. ظفیر =

کافر چې په څاه کې ولویږي نو اوبه پاکې پاته کیږي اوکه نه ناپاکه سوي؟ سوال: (۲۵۱) کافر چې په څاه کې ولویږي نو څومره اوبه به باسي؟

جواب: که چیري غسل یې کړی وی اوبیا ور لویدلی وی نوڅاه پاك دی اوکه چیري بغیر دغسل څخه ورلویدلی وی نوپه ذخیره کې یې لیکلی دی چې دڅاه ټولی اوبه دي وایستل سی یعنی دری ۳ سوه بوکی دي وایستل سی او همداسی یې دبدائع څخه نقل کړی دی، اوشامی ویلی دی چې دا اوبه ایستل شاید چې داحتیاط دوجه څخه وی: ولعل نزحها للاحتیاط. (۱) فقط

دډاکټر ددوایی په اچولو سره څاه نه پلیتیږي: سوال: (۲۵۲) ډاکټران اکثره په څاه کې دتور بانجن دارو اچوی دچینجانو دمرګ دپاره چونکه داوبو رنګ متغیر اوبد خونده سی نو دغه اوبه پاکې دی اوکه نه؟

جواب: هغه اوبه پاکې دی (۲). فقط

په کم څاه کې چې دڅپلیو سره وګرځی آیا هغه پاک نه پاته کیږي؟ سوال: (۲۵۳) دجومات پرڅاه باندی اکثره لمونځ کوونکی دڅپلیو سره اوبی نمازه لڅی پښی اوبه راکاږی کله ناکله څپلی درسۍ سره لګیږی او درسۍ اوبه په څاه کې ولویږي ، نو دا اوبه داستعمال قابلي دی اوکه نه ؟

جواب: په دی صورت کې اوبه پاکې دی اوهیڅ وهم دي نه کوی (۳). فقط

دریابي چونګښه چې په څاه کې مړه سی او خوسا سی نوڅه وکړی؟ سوال: (۲۵۴) دریابي

---

(۴) إذا وقعت نجاسة ليست بحيوان ولو مخففة او قطرة بول الخ في بئر دون القدر الكثير ولا عبرة للعمق على المعتمد الخ ينزح كل مائها الذی كان فيها وقت الوقوع الخ بعد إخراجه الخ وإن تعذر نزح كلها لكونها معينا فبقدر ما فيها وقت ابتداء النزح قاله الحلبي يؤخذ ذلك بقول رجلين عدلين لهما بصارة بالماء به يفتى وقيل يفتى بمأتين إلى ثلاث مائة وهذا ايسر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۸ ج۱). ظفير

(۱) نقل فی الذخيرة عن كتاب الصلوة للحسن ان الكافر إذا وقع فی البئر وهو حی نزح الماء وفی البدائع انه رواية عن الامام لانه لا يخلو عن نجاسة حقيقية أوحكمية حی لو إغتسل فوقع فيها عن ساعه لا ينزح منها شيء أقول ولعل نزحها للإحتياط (رد المحتار فصل فی البئر ص۱۹۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۴). ظفير

(۲) فإن تغيرت اوصافه الثلاثة لوقوع اوراق الأشجار فيه وقت الخريف فانه يجوز به الوضوء عند عامة اصحابنا الخ والتوضي بماء الزعفران والزردج والعصفر يجوز إن كان بالماء رقيقا (عالمگيري كشوري ماء الابار ج۱ ص۲۰، ط. ماجدية ج۱ ص۲۱). ظفير

(۳) اليقين لايزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵) فلو علم تتنه بنجاسة لم يجز ولو شك فالأصل الطهارة (درمختار) وإلا فمجرد الشك لا يمنع لا فی الأصل أنه يتوضأ من الحوض الذي يخاف قدرا ولا تيقنه وينبغي حمل التيقن المذكور على غلبة الظن والخوف على الشك اوالوهم كما لايخفى (رد المحتار باب المياه ج۱ ص۱۷۱ – ۱۷۲، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفير

چونګښه چې په څاه کې ولویږي او مړه سې اوخوسا سې او دهغې اجزاء په اوبو کې مخلوط سې نو اوس ددې څاه اوبه څښنل پکاردی اوکه نه ؟

جواب: په درمختار کې دي: فلو تفتت فيه نحو ضفدع جاز الوضوء به لا شربه لحرمة لحمه الخ (١) اوپه شرح دمنيه کي دي: وذکر الاسبيجابي في شرحه ما يعيش في الماء مما لا يوکل لحمه اذا مات في الماء وتفتت فانه يکره شرب الماء وهو مروى عن محمد رحمه الله لاختلاط الاجزاء المحرم اکلها بالماء الخ (٢) نومعلومه سوه چې ددې اوبو څښنل مکروه دی ، لهذا دغه اوبه دي دڅاه څخه وايستل سي اوټولی اوبه ايستل په کاردی. فقط

دغسل په نيت سره څاه ته کښته سو نو په دغه اوبو سره اودس کول جائز دي اوکه نه؟ سوال:

(۲۵۵) يو څوك په نيت دغسل يوه پاك څاه ته کښته سو نو په دغه اوبو سره اودس کول جائز دی اوکه نه؟ ځکه چې دڅاه اوبه مستعملی سوی اوغسل کول په دې سره څنګه دی؟

جواب: په دې صورت کی ددغه څاه اوبه مستعملی سوی په شامی کی دی: قوله للدلو الخ وقيد به لانه لو کان للاغتسال صار مستعملاً اتفاقاً الخ (٣) شامي، نو اودس اوغسل ددې څخه صحيح نه دی (٤) مګر نه وروسته تر ايستلو دڅلوېښتو ۴۰ بوکو څخه کما في الدر المختار واربعين في السنور ودجاجة مخلاة کآدمی محدث الخ وفي الشامي وقيل اربعون عنده ومذهب محمد انه يسلبه الطهورية وهو الصحيح عند الشيخين فينزح منه عشرون ليصير طهوراً الخ (٥) نو ددی راويت پربناء باندی شل بوکی ايستل کافی دی دهغه څخه وروسته غسل اواودس کول درست دی او واضحه دي وی چې کله هغه سړی پاك وی يعنی جنب اوبې اودسه نه وی نوکه چيري محض دتبرد (يخني حاصلولو) دپاره غسل کولو ته کښته سوی وی نو بيا به اوبه مستعملی نه سی او اودس اوغسل دهغه سره درست دی (٦) البته که چيري دثواب دپاره غسل کولو ته ننوتلی وی بيابه اوبه مستعملی سی، اوکم حکم چې پورته وليکل سو هغه به مرتب سی ځکه چې دثواب

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المياه ج١ ص١٧١، ط.س. ج١ ص١٨٥. ظفير

(٢) غنية المستملي فصل فی البئر ص١٢٣. ظفير

(٣) ردالمحتار باب المياه المستعمل مطلب مسئلة البئر جحط ج١ ص١٨٢، ط.س. ج١ ص٢٠١). ظفير

(٤) اتفق اصحابنا أن الماء المستعمل ليس بطهور حتی لا يجوز التوضئ به (عالمگيري کشوري الفصل الثاني فيما لايجوز التوضي به ج١ ص١٢، ط.س. ج١ ص٢٢). ظفير

(٥) ردالمحتار فصل فی البئر ج١ ص١٩٧ – ١٩٢، ط.س. ج١ ص٢١٣). ظفير

(٦) او اغتسل الطاهر للتبرد لا يصير الماء مستعملا کذا فی فتاوی قاضي خان (عالمگيري کشوری الفصل الثاني فيما لا يجوز التوضي ج١ ص٢١، ط.س. ج١ ص٢٣). ظفير

دپاره غسل او اودس کول هم داوبو داستعمال موجب دی: کما فی الدرالمختار او بماء مستعمل لاجل قربة ای مع ثواب الخ (۱). فقط

دناپاکه څاه څخه چې چا اودس وکی او لمونځ یې وکی نو هغه څه وکړي؟ سوال: (۲۵۶) په څاه کې که چیرې مرغې ورژیږی اوخوسا سی نوڅه حکم یې دی اوکم خلګ چې بغیر دپاکولو څخه په دغه اوبو سره اودس وکړی نو دهغوی لمونځ ادا کیږی اوکه نه؟

جواب: مرغې که چیرې په څاه کې ورژیږی اوخوسا سی نودری ۳ سوه بوکې ایستل په کاردی دوه ۲ سوه ضروری اودری ۳ سوه مستحب دی (۲) بغیر دپاکولو څخه چې کم خلګ په دغه اوبو سره اودس وکړی اولمونځ وکړی نو دهغوی لمونځ نه کیږی اوامام او مقتدیان ټول به ګنهګار وی (۳). فقط

په کم څاه کې چې پچې واچول سی هغه پاکې دی اوکه ناپاکې؟ سوال: (۲۵۷) دباران او دژمی په زمانه کې په یو پوخ څاه کې هلکانو پنځه پچې واچولی، کله چې دهغو والدینو ته معلومه سوه نوفوراً یې کوښښ وکی اوځلور خویې ورڅخه را وایستلې اویوه ډوبه سوه اوپه هیڅ ډول سره راونه وته نودری ۳ سوه بوکی وایستل سوی او دکلی خلك دهغه اوبه استعمالوی ، اوصرف یوڅو کسان دهغې اوبه نه استعمالوی، نوڅه حکم دی؟

جواب: هغه څاه پلیت سوی نه ؤ ځکه چې په شبهې سره شرعًا دناپاکی حکم نه سی کیدی اوس خو دهغه څخه دری ۳ سوه بوکی هم وایستل سوی اوهغه دڅاه سر به هم پریمنځل سوی اوصفا سوی وی په هرحال که چیرې بالفرض دغه سر یې هم ناپاکه وګڼل سی نو په دری ۳ سوه بوکو را ایستلو سره دڅاه باقی اوبه پاکې سوی اوس دهغه اوبو استعمال په هر ول درست دی اوهیڅ وهم اوشبهه دي ونه کړل سی. فقط

په څاه کې چې چرګه وغیره ولویږي نوڅومره اوبه به را ایستل کیږي؟ سوال: (۲۵۸) چرګه وغیره که په څاه کې ولویږي او مړه سی نو ۳۰ دیرش یا ۴۰ څلویښت، او زیاتي شپیته ۶۰ بوکی ایستل کیږی ، لیکن که دچرګی پربدن اوپنجو باندی نجاست وی، دغه ډول کله چې بزه متیازی کوی نو دهغې پربدن باندی څاځکی ولویږي نوپه دی صورت کې به

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه مبحث الماء المستعمل ص۱۸۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۸. ظ

(۲) اومات فیها حیوان دموی وانتفخ وتفسخ ینزح کل مائها الذی کان فیها وقت الوقوع بعد إخراجه الخ وان تعذر فبقدر ما فیها یؤخذ ذلك لقول رجلین عدلین لهما بصارة بالماء به یفتی وقیل یفتی بمأتین إلی ثلاث مائة وهذا ایسر وذلك أحوط مختصرا (الدرالمختار) وأفاد فی النهر ان المأتین واجبتان والمائة الثالثة مندوبة (ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۵ – ۱۹۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ – ۲۱۴). ظفیر

(۳) ویحکم بنجاستها مغلظة من وقت الوقوع إن علم الخ فی حق الوضوء والغسل الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ص۲۰۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۸). ظفیر

داوبو بوکی کمی چی په شریعت کی ټاکل سوی دی هغه به ایستل کیږی اوکه نه کمي یا زیاتي؟ دشریعت حکم څه دی؟

جواب: کله چی نور نجاست دچرګی پر پنجه وغیره باندی نه وی ښکاره نوهم دهغو څلویښتو بوکو څخه ترشپیتو پوری په ایستلو سره به دڅاه اوبه پاکی سی، او دظنی احتمال دنجاست اعتبار به نه کیږی اوهمدا حکم په بزه کی دی (۱) او وجه داده چی په چرګه او بزه کی لکه څنګه چی احتمال دنجاست دی هم دغه ډول دا هم احتمال دی چی په اوبو خاورو او نورو سره به هغه نجاست لیری سوی وی (۲). فقط

په کم څاه کی چی مرغی لویږی او مړی کیږی او خلک هغه پاکوی نو دهغه څه حکم دی؟

سوال: (۲۵۹) دیو جومات دڅاه څخه مرغی راوزی کله رژیدلی وی اوکله نا رژیدلی وی کله په یوه میاشت کی اوکله په دوو میاشتو کی خو خلګ کله هغه په کال کی یا په شپږو میاشتو کی پاکوی، نو ددغه په باره کی څه حکم دی ؟

جواب: کم وخت چی ددغه څاه څخه مرغی راووزی دهم هغی قاعدی موافق دهغه پاکول کول په کاردی ، که پړسیدلی یا چاودلی وی نو دری ۳ سوه بوکې ایستل کیږی بغیر دپاکولو څخه اودس کول ددغه څاه څخه درست نه دی (۳) او دپاکولو څخه وروسته بیا څه شبه کول نه دی په کار، او اودس اولمونځ کول ټول درست دی. فقط

په کم څاه کی چی مرغی ولویدله او ونه ایستل سوه نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۶۰) دجومات په څاه کی دمرغی بچی ولویدی اومړ سو ډیر یی تلاش کړی خو پیدانه سو نو اوس څه وکړی؟

جواب: په رد المحتار جلد اول ص ۱۴۲ کی دی: ففي القهستاني عن الجواهر لو وقع عصفور فيها فعجزوا عن اخراجه فمادام فيها فنجسة فتترك مدة يعلم انه استحال وصار

---

(۱) وأربعين فی سنور ودجاجة مخلاة الخ وان كان كحمامة وهرة نزح اربعون من الدلاء وجوبا إلى ستين ندبا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب البئر ج۱ ص۱۹۲ – ۱۹۷، ط.س. ج۱ ص۲۱۳) اليقين لا يزول بالشك (الأشباه والنظائر ص ۷۵). ظفير

(۲) ثم هذا إن لم تكن الفارة هاربة من هر ولا الهر هاربا من الكلب ولا الشاة من سبع فان كان نزح كله مطلقا لكن فی النهر عن المجتبى الفتوى على خلافه لأن فی بولها شكا (درمختار) وقد مر أنهم لم يعتبروا إحتمال النجاسة فی الشاة ونحوها (ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۴). ظفير

(۳) او مات فيها أو خارجها والقی فيها ولو فارة يابسة حيوان دموی غير مائي وانتفخ او تمعط وتفسخ الخ ينزح كل مائها الذی كان فيها وقت الوقوع بعد إخراجه الخ وان تعذر نزح كلها لكونها معينا فبقدر ما فيها وقت ابتداء النزح يوخذ ذلك بقول رجلين عدلين لهما بصارة بالماء به يفتى وقيل يفتى بمأتين إلى ثلاث مائة وهذا أيسر وذلك احوط (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۵ – ۱۹۸، ط.س. ج۱ ص۲۱۱). ظفير

حماة وقيل مدة سنة اشهر ([1])، ددې فقهي جزئيي څخه معلومه سوه چي ترشپږو مياشتو پوري دي دغه څاه همداسي پرېښودل سي او ددغه څخه وروسته دي دري ۳ سوه بوکي وايستل سي تر دغه وروسته به دهغه اوبو استعمالول درست وي. فقط

دکم ناپاکه څاه څخه چي اوبه ايستل کيدې هغه پاک سو اوکه نه؟ سوال: (۲۲۱) څاه چي دڅه نجاست دلويدلو دوجه څخه ناپاکه سوی وی تربوی مياشتی پوری خلګو اوبه څښلی او ددغه سره سره يي اودس وغيره هم کړی وی اوپه دی موده کی دومره اوبه ووتلی چي په هغه سره څاه ته پاك وويل سوه، نو آيا څاه شرعًا پاك دی اوکه نه ؟

جواب: کله چي اوبه دواجب مقدار څخه زياتي وتلي دی نوڅاه پاك دی ([2]). فقط

دکم څاه څخه چي پچه راووتله نو آيا اوبو ته به ناپاکي ويل کيږي؟ سوال: (۲۲۲) ديو څاه څخه روغه سلامته دحيوان پچه راووتله زيد وايي چي اوبه پليتي سوی که ماته وی اوکه روغه ددواړو حکم يودی اوعمر وايي چي اوبه پاکی دی دچا قول صحيح دی ؟

جواب: دسلامتي بچي په وتلو سره څاه نه پليتيږي داصحيح ده: کما في الدرالمختار وبعرتي ابل وغنم الخ ای لا نزح بهما شامی ([3]) ص۱۴۷ ج۱. فقط

که څوک په څاه کی روږه واچوی نوڅه وکړي؟ سوال: (۲۲۳) يو ماشوم په څاه کی روږه اچولی وه نوڅه وکړی؟ څو ځلی پاك کړل سو خو روږه ونه وتله نو بغير دروږی ايستلو څخه څاه پاك دی اوکه نه ؟

جواب: ددغی روږی دماتو څښتو ايستلو ضرورت اوس نه سته او دڅاه اوبه پاکی دی هيڅ وهم مه کوی ([4]). فقط

دکم څاه څخه چي خوسا سوی حيوان را ووزي نوهغه به څنګه پاکيږي؟ سوال: (۲۲۴) په يوڅاه کی حيوان ولويدی اومړ سو بياڅه موده وروسته وليدل سو نو دڅوروالی دوجه څخه دا ونه پيژندل سوه چي داپيشو ده اوکه سپی نو دهغه درا ايستلو دپاره ټوکری ورواچول سوه نوڅرنګه چي هغه رژيدلی او پړسيدلی ؤ نو دټوکری سره څه وړی اوچمړه دباندې راووته ، بياڅه موده وروسته مسلمانانو ته دڅاه دپاکولو ضرورت راغی نو په يوې خاصی اندازی سره ددی څاه ټولی اوبه وايستل سوی بيا يې يوه غوټه وهونکی په

([1]) رد المحتار فصل فی البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲. ظفير

([2]) ينزح مائها الذي كان فيها وقت الوقوع الخ ولو نزح بعضه ثم زاد في الغد نزح قدر الباقي في الصحيح (درمختار) وهو مبني على انه لايشرط التوالي وهو المختار كما في البحر والقهستاني (رد المحتار فصل فی البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲). ظفير

([3]) رد المحتار فصل فی البئر ص۲۰۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۲۱. ظفير

([4]) اليقين لا يزول بالشك (الاشباه والنظائر القاعدة الثالثه ص۷۵). ظفير

څاه کی داخل کړی په دویمه اویا دریمه غوټه کی یې څه چربی او کولمې دباندي را وایستلی ، څرنګه چی دیارلس څوارلس لاسه اوبه ژوری دی نو غوټه وهونکی وار خطا سو اوبله غوټه یی ونه سوه کولی ، نوشرعًا څاه پاك سو اوکه نه که چیري نه وی پاك نوڅه رنګه پاك کیدلی سی؟

جواب: دداسی څاه په نسبت په کم کی چی څه عین نجس موجود وی او دهغه ایستل ګران وی نودا حکم دی چی ترشپږو میاشتو پوری به هغه پریښودل سی چی په هغه کی غوښه خرمن ویلی سی اوخاوره او خټه سی ددې څخه وروسته دي بیا ددې څخه اوبه وایستل سی ددوه ۲ سوه څخه تردری ۳ سوه بوکو پوری دي وایستل سی ([1]) چی دوه سوه ضروری دی اودری ۳ سوه مستحب دی: ففی القهستانی عن الجواهر لو وقع عصفور فیها فعجزوا عن اخراجه فما دام فیها فنجسة فتترك مدة یعلم انه استحال وصار حمأة وقیل مدة ستة اشهر الخ. ([2]) فقط

په کم تالاب کی چی نجاست لګیدلی وی اوپه باران کی ډک سی نو دهغه اوبه پاکی دی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۲۵) یوتالاب تقریبًا طولاً اوعرضًا لس دولس ګزه دی اوسالانه وچیږی اودکلی دنجاست خزانه اودخوا اوشا نژدی اوسیدونکو ډیران دی ، اوس په ابتدایی باران کی په هغه کی څه اوبه دنجاست سره ګډی سوی اوجمعه سویدی بیاپر هغه باندی وخت په وخت باران وسو تردی پوری چی هغه ترخولې پوری راغی او ونه بهیدی آیا مخکی دبهیدلو څخه تالاب پاك دی اوکه نه وروسته دجوش خوړلو څخه به پرهغه دپاکوالی حکم کیږی؟

جواب: قال فی الدرالمختار وکذا یجوز براکد کثیر کذلك ای وقع فیه نجس لم یر اثره ولو فی موضع وقوع المرائیة به یفتٰی بحر ([3]) نومعلومه سوه چی دذکر سوی تالاب اوبه مخکی دجوش وهلو څخه او وروسته دجوش خوړلو څخه په هرحال پاکی دی. فقط

ناپاکه ښځه په څاه کی ولویده نوڅاه څرنګه پاک کړی ؟ **سوال**: (۲۲۶) یوه ښځه دشپونکی قوم چی دهغی جامی په غالب ګمان سره ناپاکی دی په څاه کی ولویده اوبیا څه قدر ساه یی باقی وه چی را وایستل شوه دباندي چی را ووتله نو مړه سوه نو په دی صورت کی به

([1]) وإن تعذر نزح کلها لکونها معینا فبقدر ما فیها وقت ابتداء النزح یؤخذ ذلك بقول رجلین عدلین لهما بصارة بالماء به یفتی وقیل یفتی بمأتین إلی ثلاث مائة وهذا أیسر وذلك احوط (الدرالمختار) أفاد فی النهر أن المأتین واجبتان والمائة الثالثة مندوبة (رد المحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۵ – ۱۹۸، ط.س. ج۱ ص۲۱۴). ظفیر

([2]) ردالمحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۱۲. ظفیر

([3]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۷۲، ط.س. ج۱ ص۱۹۰. ظفیر

دڅاه اوبه څرنګه پاکی سی؟

جواب: په دی صورت کی دي دری ۳ سوه بوکی ددغه څاه څخه وایستل سی اوباقی اوبه به پاکی سی. (۱)

سام ابرص چی په څاه کی ولویږي نو اوبه پلیتیږي اوکه نه؟ سوال: (۲۲۷) سامِ ابرص چی په څاه کی ولویدی نوپه مړ کیدلو سره یې اوبه پلیتیږی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: فيفسد في الاصح كحية برية ان لها دم والا لا الخ وفي الشامي وكالحية البرية والوزغة الكبرة لها دم سائل منيه الخ (۲) نومعلومه سوه چی که وزغۀ کبیره (لویه چرمښکۍ) په څاه کی مړه سی نودڅاه اوبه ناپاکه کوی نو ددغه څاه څخه دي دشلو څخه تردیرشو بوکو پوری اوبه وایستل سی که چیري پړسیدلی او رژیدلی نه وی اوغټ کربوړی په کم کی چی وینه نسته بیا دهغه په مړ کیدلو سره اوبه نه پلیتیږی اوکه احتیاطًا شل بوکی اوبه وایستل سی نوڅه حرج نسته. فقط

په څاه کی چی څپلۍ ولویږي او ونه ایستل سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۲۸) یوڅاه چی دهغه قطر څوارلس فُټه دی په هغه کی اتفاقا یوه استعمال سوی څپلۍ دنهه یا لسو کالو دماشوم ولویده کمه چی پیدانه سوه نوپه دی صورت کی څه حکم دی ؟

جواب: کله چی هغه څپلۍ ونه وتله او دنجاست لګیدل پرهغی باندی محقق سوی نه دی اولیدل سوی هم نه دی نو ددغه څاه اوبه پاکی دی پرشك باندی هیڅ حکم نه مرتب کیږی قال في البحر وقيدنا بالعلم لانهم قالوا في البقر ونحوه يخرج حيا لا يجب نزح شيء وان كان الظاهر اشتمال بولها على افخاذها لكن يحتمل طهارتها بان سقطت عقب دخولها ماءاً كثيراً مع ان الاصل الطهارة الخ نومعلومه سوه چی دیقیني نجاست علم نسته نودڅاه دناپاکی حکم کول نه دی په کار.

مقرره قاعده ده چی (اليقين لايزول بالشك) (۳) اوپر څپلۍ باندی چی څنګه په غالب ګمان نجاست لګیدل ثابت دی نو همدغه ډول دا احتمال هم دی چی پرمځکه باندی په ګرځیدلو سره دڅپلۍ څخه نجاستونه پاکیږی، په هر حال پر احتمال باندی به څه حکم نه

---

(۱) إذا وقعت نجاسة ليست بحيوان ولو مخففة او قطرة بول الخ في بئر او مات فيها الخ حيوان دموى غير مائي وانتفخ الخ ينزح كل مائها الخ بعد اخراجه الخ قيد بالموت لأنه لو اخرج حيا وليس بنجس العين ولابه حدث اوخبث لم ينزح شيء الخ وقيل يفتى بمأتين إلى ثلاث مائة وهذا ايسر (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في البئر ج۱ ص۱۹۸، ط.س. ج۱ ص۲۱۱ - ۲۱۲ - ۲۱۴). ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۷۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۵. ظفير

(۳) الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵. ظفير

مرتب کیږی. فقط

<u>ناپاکه څاه ددوه ۲ دری۳ سوه بوکو په ایستلو سره پاکیږی</u>: **سوال**: (۲۶۹) که چیري شرعًا تولی اوبه دڅاه ناپاکه وګرځیدل سی اوڅاه هم ددی تعریف موافق دی چی: انهم کما نزحوا منع منها مثل ما نزحوا او اکثر، چینه دار نه دی نو ددې څخه دوه ۲ یا دری۳ سوه بوکی ایستل به دطهارت دپاره موجب وی اوکه نه؟ ځکه چی دکم قول څخه چی دوه ۲ یا دری۳ سوه بوکی ایستل اخیستل سوی دی دهغه کمزورتیا محقیقینو کړیده لکه څنګه چی په شامی اونوروکی ویل سوی دی.

جواب: ددوه ۲ سوه څخه تردری ۳ سوه بوکو پوری ایستل دطهارت موجب دی اوس پرهمدی باندی فتوٰی ورکول کیږی دسهولت په وجه سره دا اختیار سوی دی اوکله چی ډیرو فقهاؤ دا اختیار فرمایلی دی اومختار او ایسر یی ورته ویلی دی او دامام صاحب یوروایت یی هم لیکلی دی نوپه دی باندی په فتوٰی ورکولو کی هیڅ حرج نسته (۱). فقط

<u>مرغی چی په کم څاه کی ولویږي او ونه ایستل سی نوڅه حکم دی؟</u> **سوال**: (۲۷۰) مرغی چی په څاه کی ولویږی اومړه سی اوپه لټون سره هم پیدا نه سی نوبعضو فقهاؤ ترشپږو میاشتو پوری دڅاه پرینښودل معطل ویلی دی په دي کی تنګی معلومیږی آیا دا اندازه یی استحبابًا ایښی ده؟ غرض داچی کم صورت دآسانتیا وی هغه تحریر وفرمایاست؟

جواب: په داسی حالت کی چی دمرغی او دنورو لویدل یقینی وی اوونه ایستل سی نو ددې وجه اصل حکم دادی چی تر دومره قدر مودی پوری دي دڅاه اوبهٔ استعمال نه سی ترڅومره وخت پوری چی هغه ویلی سوی نه وی اوخاوره سوی نه وی، ددغه څخه وروسته دي اوبه تولی را وباسی اوبیا دي یې استعمالول شروع کړی، اوبعضو فقهاؤ دشپږو میاشتو اندازه مقرر کړی ده. کذا فی الدرالمختار، اودا په حقیقت کی دمجملی مودی تحدید دی ځکه چی په غالب ګمان سره په دی موده کی حیوان خاوری کیږی اوکه په تجربی سره چیري ددغی مودی څخه مخکی یی خاوری کیدل ثابت سی نو ددغی مودی څخه مخکی به داوبو دایستلو حکم کول کیږي اوهم دجواز داستعمال ددغو اوبو (۲) اوکه چیري دسره دحیوان په وجود کی شك وی چی په څاه کی سته اوکه نه؟ نو بیا دا

---

(۱) وقیل یفتی بمائتین الی ثلث مائة وهذا ایسر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۸) جزم به فی الکنز والملتقی وهو مروی عن محمد وعلیه الفتوی خلاصه وتاتارخانیه عن النصاب وهو المختار معراج عن العتابه وجعله روایة فی العنایة عن الإمام وهو المختار والأیسر کما فی الإختیار وأفاد فی النهر ان المأتین واجبتان والمائة الثالثة مندوبة (ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۵). ظ

(۲) ینزح کل مائها الذی کان فیها وقت الوقوع بعد إخراجه (درمختار) فلو تعذر ایضا ففی القهستاني عن =

حکم محض احتیاطًا دی ځکه چی په شك سره اوبه نه ناپاکیږی. (۱) فقط

په کم څاه کی چی څپلی، ولویږی او دهغه اوبه برابری ایستل کیږی دهغه څخه اودس کول جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۷۱) په یو باغ کی یوه مدرسه ده هغې ته نږدی یوڅاه دی چی هغه ته ارټ وایی په هغه کی دیوه هلك څپلی، ولویدله چی دهغې دایستلو دپاره یی کوښښ وکړی خو ونه وتله اوڅاه دسهار دځلورو بجو څخه شروع سی اوتوله ورځ چلیږی په دغه اوبو سره اودس کول، او ډوډی پخول اونور درست دی اوکه نه؟

جواب: ددغه څاه اوبه پاکی دی او اودس اولمونځ په هغه سره صحیح دی شرعًا په شبهی سره دناپاکوالی حکم نه کیږی. (۲) فقط

په څاه کی دعموم بلوٰی اعتبار: **سوال**: (۲۷۲) په تذکرۃ الرشید اول جلد ص۱۸۴ کي دڅاه په مسائلو کی دضرورت په وجه وسعت اختیاریږی اوکمه مسئله چی مختلف فیه ده دمجتهدینو، نوپه هغی کی یې دوسعت درایې اختیارول په وخت دحرج اوعموم بلوی کی درست لیکلی دي، نوپه داسی صورت کی چی ترڅو پوری دعین نجاست لویدل په څاه کی معلوم اولیدل سوی نه وی هغه ته ناپاکه ویل نه دی په کار، بلکه که چیری پخپله یی دلویدلو په حال کي هم ووینی بیا هم دضرورت دپاره هغه ته ناپاکه نه سو ویلی، وګوری چه پچه داوښ او دبزی دامام صاحب په نزد نجسه ده خو دځنګل څاه چه ترنیمایی پوری دپچو څخه ډك سی بیا یې هم پاك بولی دضرورت په وجه ځکه چه دامام مالك صاحب په نزد پچی نجسی نه دی، نواوس په هندوستان کی خصوصًا په کلی کی چه کله دپچو او دمتیازو دغوا اوغوایی ډیروالی راغلی دی نو څاه هر کله پاك نه سی پاته کیدی لهذا دداسی امورو څخه دي سترګی پټی سی او تر څو پوری چه ونه لیدل سی بلکه په لیدلو سره دي هم استعمال داوبو کوی. کذا یفهم من کتب الفقه.

تاسي جناب دالرشید په نمبر۱۰ جلد۴ ص۲۰ کي، دجومات په څاه کی دمرغی دبچی په لویدلو اودمړ کیدلو دسوال په جواب کی ارشاد فرمایلی دی چه څاه دي شپږ میاشتی بیکاره پریښول سی او دهغه څخه وروسته دي دری سوه ۳۰۰ بوکی وایستل سی نو بیا دي اوبه استعمال سی. انتهی.

= الجواهر لو وقع عصفور فیها فعجزوا عن إخراجه فمادام فیها فنجسة فتترك مدة یعلم انه إستحال وصار حمأة وقیل مدة ستة اشهر (ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲). ظفیر

(۱) الیقین لایزول بالشك (الأشباه والنظائر ص۷۵). ظفیر

(۲) فلو علم نتنه بنجاسة لم یجز ولو شك فالأصل الطهارة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ص۱۷۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفیر

په دی هرو دوو جوابونوکی دحضرت عالی قدس سرّہ جواب صحیح گڼل ضروری دی اوکه نه دجناب؟ که چیری دواړه صحیح وی اوبنده دهغه دپوهیدلو څخه قاصر وي نو دفرق وجه تحریر کړئ؟

جواب: په شامی ص۱۵۲ جلد اول فصل فی البیر کی دی: واشار بقوله متنجسة الی انه لابد من اخراج عین النجاسة کلحم میتة وخنزیر آه قلت فلو تعذر ایضا ففی القهستانی عن الجواهر لو وقع عصفور فیها فعجزوا عن اخراجه مادام فیها فنجسة فتترك مدة یعلم انه استحال وصار حمأة وقیل مدة ستة اشهر اهـ.([1]) بنده چی کم څه په الرشید کی لیکلی دی هغه یی دعلامه شامی ددی روایت موافق لیکلی دی او دتذکرة الرشید څخه چی کم څه تاسی نقل کړیدی هغه هم صحیح دی اوبیشکه په مسائلو داوبو اومسائلو دڅاه کی دوسعت ضرورت دی، په کم ځای کی چی یوڅه شبه هم وي هلته دپاکوالی حکم کول پکاردی ځکه چی مسلمه قاعده ده (الیقین لایزول بالشك) او دحضرت مولانا گنگوهی رحمه الله غرض همدا دی چی دعموم بلوٰی اوشبهی په ځایونوکی دپاکوالی حکم کول په کاردی او دشامی ددی عبارت محل هم هغه دی چی هیڅ شبه باقی نه وی بلکه بالیقین چوغکه په څاه کی لیدل معلوم وی اوبیا یی اخراج نه سی کیدی ځکه چی په دي کی نه عموم بلوٰی ده لکه څرنگه چی په بعره اوپه نورو کی ده اونه شبه ده لیکن که چیري دشبهی گنجائش راووزی نوبیا دتذکرة الرشید دمسئلی موافق حکم دی او داحقر په نزد څه ناڅه شبه ضرور راتلای سی، که پوره یقین دوقوع او تحقیق دنجاست په څاه کی ونه لگیدی نو ویلی سو چی په دی کی نجاست گرسره لویدلی نه دی یا باقی نه دی پاته سوی، بهر حال تعارض هیڅ نسته اوتطبیق ممکن دی داتاویل کیدلی سی. فقط

په کم څاه کی چی آس ولویږي اومړ سي نو څنگه پاک کړل سي؟ سوال: (۲۷۳) په یوڅاه کی آس ولویدی اومړ سو نوهغه یی ورڅخه را وایستی اودری ۳ سوه بوکی اوبه یی ورڅخه را وایستلی لیکن آس ولویدی اوڅاه دسره دری څلور میاشتی بند ؤ او اوبه هیڅ چا ونه ایستلی اوس یی دری سوه شپیته بوکی وایستلی اوبه بالکل توری سوی وی وروسته او اوس هم توروالی ته مائله دی، نودا څاه پاك سو اوکه نه اوس هم نجس دی، بل څه تدبیر کول په کاردی؟

جواب: دقاعدی موافق خوددری سوه شپیته بوکوپه ایستلوسره خوڅاه پاك سو ([2]) لیکن

([1]) ردالمحتار فصل فی البئرج ۱ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۱۲. ظفیر

([2]) وقیل یفتی بمأتین إلی ثلاث مائة وهذا أیسر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۵). ظفیر

که چیري په داسی حالت کی چی ټولی اوبه خرابی سوی وی نوټولی اوبه دي وایستل سی اودغه څاه دي صفا کړل سی نو دا غوره اوبهتره ده. (۱)

دکم څاه څخه چی هندوان اوبه وړی دهغه څخه اودس وغیره کول درست دي اوکه نه؟

سوال: (۳۷۳) کم یوڅاه چی داسی وی چی دهغه څخه هندوان اوبه وړی اودهغه اوبه نه ایستل کیږی بلکه دلمبلو څیښلو او دنورو ضروریاتو دپاره یې وړی لهذا ددغه څاه څخه اودس کول او اوبه څیښل درست دی اوکه نه ؟

جواب: اودس کول او څیښل ددی څاه څخه درست دی اوهیڅ شبه مه کوی (۲). فقط

په څاه کی چی څپلی ولویده اوپیدا نه سوه نو څنګه به پاک سی؟ سوال: (۲۷۵) په یوه څاه کی چی ددیارلس کلن ماشوم څپلۍ استعمال شده ولویږي او دڅاه دژوروالی په وجه سره ورکه سی دکوشش باوجود په نه وتلو باندی به دری سوه شپیته بوکی ایستل کافی وی اوکه نه څپلۍ او ټولی اوبه را ایستل به ضروري وی؟

جواب: ناپاکه څپلۍ ایستل به ضروری وی نو ددغه څخه وروسته به څاه ددری سوه شپیته بوکو په ایستلو سره پاك سی لیکن که چیري ددغه ناپاکه څپلۍ ایستل ناممکن وی نو په درمختار کی یی لیکلی دی چی په دی صورت کی دي دومره اوبه وایستل سی چی بوکه هم نه سی ډکیدلی: الا اذا تعذر الخ فینزح الماء الی حد لا یملاء نصف الدلو یطهر الکل تبعًا الخ (۳). فقط

په کم څاه کی چی خنزیر ولویږی اومړ سی دهغه دپاکولو طریقه: سوال: (۲۷۲) دهندوانو څاه ته خنزیر ولویدی هغوی اول هغه مړ سوی را وایستی او بیایی دهغه څخه اوبه را وایستلی خو څه اوبه باقی پاته سوی، نو ددغه څاه داوبو څیښل دمسلمانانو دپاره جائز دی اوکه نه ؟

جواب: که چیري دخنزیر دایستلو څخه وروسته ددری سوه ۳۰۰ بوکو په مقدار ددغه څاه اوبه وتلی وی، نودغه څاه پاك سو او مسلمانانو لره دهغه اوبه څیښل او استعمالول درست دی. (۴)

---

(۱) ینزح کل مائها الذی کان فیها وقت الوقوع بعد اخراجه فان تعذر نزح کلها الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۱۲). ظفیر

(۲) دیوه څاه څخه دهندو داوبو په وړلو سره هغه څاه نه مرداریږي دهغوی پس خورده هم پاکه ده: فسؤر الآدمي مطلقا ولوجنبا اوکافرا الخ طاهر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی السور، ط.س. ج۱ ص۲۲۲). ظ

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۲. ظفیر

(۴) وقیل یفتی بمأتین إلی ثلاث مائة وهذا أیسر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ص۱۹۸ =

څلورم فصل : دپس خوردی داوبو حکمونه

<u>دفیل دخرطوم (شونډې) اوبه پاکې دي اوکه ناپاکې؟</u> سوال: (٢٧٧\١) فیل چې دخپلې خولې څخه کمې اوبه پریږدي هغه پاکې دي اوکه ناپاکې ؟

<u>دا خفیفه دی اوکه مغلظه</u>: سوال: (٢٧٨\٢) دا په خفیفه نجاست کې داخلې دي اوکه نه ؟

<u>دغه اوبه چه څومره جامې ته ورسیږي نو هغه به ناپاکه سي؟</u> سوال: (٢٧٩\٣) په دغه اوبو چې څومره اندازه جامه لنده سي نو ناپاکه به سي؟

<u>دفیل دشونډې داوبو څاڅکي دوړیو پرجامه ولویدل نوڅه وکړي؟</u> سوال: (٢٨٠\١٤) دوړیو پر جامه باندې چې څو ځایه دفیل داوبو څاڅکې ولویدل لیکن هغه په جامه کې جذب نه سول، اوپه دستمال سره پاك کړای سول ، په داسې صورت کې به جامه ناپاکه سي اوکه نه پاکه به وي؟ ددې څاڅکو مجموعې اندازه دڅلورو روپو په اندازه وه.

جواب: ١: دغه اوبه ناپاکې دي او مغلظي نجسې دي. (كما في الدر المختار وسور خنزير وكلب وسباع بهائم نجس مغلظ الخ قال الشامي قوله: وسباع بهائم هي ما كان يصطاد بنابه كالاسد والذئب والفهد والنمر والثعلب والفيل والضبع واشباه ذلك، سراج، شامی ص٢٠٥ ج١، ظفير). فقط

٢: دغه اوبه به په نجاست مغلظه سره نجسې دي، خفیفه نه دي. ([١]) فقط

٣: دیوه درهم مقدار یعني دورغوی دژوروالی په اندازه معاف دی او لمونځ به پکښې جائز سی، اګر چې پریمنځل دهغه هم واجب دی اوکه چیري دیوه درهم دمقدار څخه زیاته وی نولمونځ به هم نه پکښې کیږي ([٢]) واضحه دي وی چې په نجاست رقیقه کې لکه متیازې یا ناپاکې اوبه په دي کې دلاس دتلې دژوروالی په اندازه معاف دی ([٣]) اوکه ددې څخه زیات وی نولمونځ نه ورسره کیږي. ([۴]) فقط

= ج١، ط.س. ج١ ص٢١٢). ظفير

([١]) وسؤر خنزير وكلب وسباع بهائم مغلظ (درمختار) وسباع بهائم هى ماكان يصطاد بنا به كالأسد والذئب والفهد الخ والفيل (ردالمحتار احكام السور ج١ ص٢٠٥، ط.س. ج١ ص٢٢٣). ظفير

([٢]) قدر الدرهم ومادونه من النجس المغلظ كالدم والبول والخمر الخ جازت الصلوة معه وإن زاد لم تجز (هدايه باب الأنجاس ج١ ص١٧١). ظفير

([٣]) المغلظة وعفى عنها قدر الدرهم الخ بالوزن فى النجاسة المتجسدة وزنه قدر الدرهم الكبير المثقال وبالمساحة فى غيرها وهو قدر عرض الكف الخ والمثقال وزنه عشرون قيراطا (عالمگيري مصري باب في النجاسة ص٤٣ - ٤٢ ج١، ط. ماجدية ج١ ص٤٥). ظفير

([۴]) فاذا أصاب من قدر الدرهم يمنع جواز الصلوة كذا فى المحيط (عالمگيري مصري باب فى النجاسة ج١ ص٢٣، ط.س. ج١ ص٤٢). ظفير

۴: کله چي ددې څاڅکو مقدار ددرې څلورو روپو برابر دی نو داسي معلوميږي چي دا څاڅکي دستني تر سر غټ دي، له دې امله دا جامه ناپاکه ده، لمونځ ددې جامې سره نه کيږي. فقط والله تعالی أعلم (١)

دانګريزانو دلوښو استعمال جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۲۸۱\۱) دانګريزانو لوښي چي ومينځل سي نو په هغو کي داوبو چيښاك کول جائز دی اوکه نه؟

دانګريز پس خورده پاکه ده اوکه ناپاکه؟ سوال: (۲۸۲\۲) دانګريز تر خوړلو وروسته دپاته سوو شيدو استعمالول شرعا څنګه دي؟

جواب: ۱: په دغه لوښو کي څيښاك کول جائز دي. (٢)

۲: دپاته سوو شيدو استعمال شرعًا جائز دي. (په دی شرط چي هغه دشرابو دڅيښلو څخه وروسته سمدستي ددې شيدو څخه خوراك نه وي کړی، (٣) ظفير). فقط

دپشي او دموږک پس خورده پاکه ده اوکه ناپاکه؟ سوال: (۲۸۳) دموږك او پيشي پس خورده حلاله ده اوکه حرامه؟

جواب: دموږك او پيشي پس خورده پاکه ده. (٤) فقط

الباب الرابع فی التيمم

دتيمم مسئلې

دتبې او دسختي يخنی دوجه تيمم جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۲۸۴) که چيري يو څوك ديخنی په موسم کی يوداسی ځنګل ته دکار دپاره ځی چي هلته اوبه په نهائی درجه کی يخی اوهلته دګرمولو اسباب نه وی لکه لوښی او خاشاك او ديخنی وخت ډير وی لکه دوريځی په وجه لمر نه وی يا دماښام، ياسهار يادشپی وخت وی او ديخنی په وجه جنب

(١) البول المنتضح قدر رؤوس الأبر معفو للضرورة وإن إمتلأ الثوب الخ ولو كان المنتضح مثل رؤوس المسئلة منع كذا فی البحر الرائق (عالمگيري مصري باب فی النجاسة ص۴۳ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۴۲). ظفير

(٢) ويكره الأكل والشرب فی أوانی المشركين قبل الغسل ومع هذا لو أكل او شرب فيها قبل الغسل جاز ولا يكون اكلا ولا شربا حراما، وهذا إذا لم يعلم بنجاسة الأواني فأما إذا علم فانه لا يجوز ان يشرب ويأكل منها قبل الغسل الخ (عالمگيري مصري كتاب الكراهية باب رابع عشر ج۱ ص۳۵۸، ط. ماجدية ج۵ ص۳۴۷). ظفير

(٣) سؤر الآدمي طاهر ويدخل فی هذا الجنب والحائض والنفساء والكافر إلا سؤر شارب الخمر ومن دمی فوه إذا شربا علی فور ذلك فانه نجس (عالمگيري مصري ج۱ ص۲۳، ط. ماجدية ج۱ ص۲۳). ظفير

(٤) وسؤر الخ سواكن البيوت طاهر للضرورة مكروه تنزيها إن وجد غيره وإلا لم يكره اصلا (درمختار) ای مما له دم سائل كالفارة والحية والوزغة (رد المحتار مطلب فی السؤر ص۲۰۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۲۲) وسؤر حشرات البيت كالحية والفارة والسنور مكروه كراهة تنزيه هو الأصح كذا فی الخلاصه (عالمگيري كشوري مصري الباب الثالث فی المياه ص۲۳ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۲۴) ظفير

ته دغسل اوبی اودسه ته داودس کولو توان نه وی اویا په چا باندی سخته تبه او یخنی راغلی وی نوتیمم کول به داسی کسانو لره جائز وی اوکه نه؟

جواب: په حالت دمرض اوخوف دمرض کی تیمم درست دی اوکله چی په یخو اوبو سره په غسل کولو او اودس کولوکی اندیښنه دهلاکت یا دمرض وی نو تیمم جائز دی. ([1])

دقدرت لرلو باوجود دوخت دتنګوالی دوجه تیمم درست دی اوکه نه؟ سوال: (۲۸۵) که چیري لمونځ کوونکی دسهار په وخت داسی وخت دخوب څخه راپاڅیدی چی ګرمی اوبه په مکان یاپه کور کی پیدا نه سوی او دیخنی دوجه څخه په یخو اوبو اودس نه سی کولی اونه په وخت کی دومره ګنجائش سته چی اوبه ګرمی کړی اوغسل وکړی او دادا په وخت کی لمونځ وکړی، نوکه دالمونځ ګذاره دلمانځه دادا په وخت کی تیمم ووهی اولمونځ وکړی نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: کله چی ده ته دګرمو اوبو قدرت سته نو تیمم کول ورته جائز نه دی، لمونځ دي قضاء کړی خوغسل او اودس دي ضرور وکړی ([2]). فقط

چی دناروغه پربدن باندی پلیتی لګیدلی وی اواوبه ورته نقصان رسوی نو طهارت څرنګه حاصل کړی؟ سوال: (۲۸۶) دناروغه پربدن باندی نجاست لګیدلی دی اواوبه ورته نقصان رسوی نوطهارت څرنګه حاصل کړی؟

جواب: په بدن باندی چی نجاست وی هغه دي ومینځی او دهغه څخه وروسته دي تیمم وکړی ([3]).

پر ډبري، لرګی، جامی وغیره باندی تیمم درست دی اوکه نه؟ سوال: (۲۸۷) پرلرګی، ډبری، جامی، پوخ فرش یا په دیوال، په وچو یا لمدو وښو، په دوی کی چی کله پر یوه باندی لړه دوړه هم نه وی نوتیمم درست دی اوکه نه؟

جواب: په لرګی او پر جامه باندی بغیر ددوړی څخه تیمم درست نه دی هم دغه ډول حکم

([1]) من عجز عن استعمال الماء لبعده میلا الخ او لمرض یشتد او یمتد بغلبة ظن او قول حاذق مسلم الخ او برد یهلك الجنب او یمرضه الخ ولو في المصر اذا لم تكن اجرة حمام ولا ما یدفنه الخ تیم (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۱۴، ط.س. ج۱ ص۲۳۲ – ۲۳۳). ظفیر

([2]) قال في البحر فصار الاصل انه متى قدر على الإغتسال بوجه من الوجوه لا یباح التیمم اجماعا (ردالمحتار باب التیمم ص۲۱۲ ج۱، تحت قوله والا ما یدفئه ط.س. ج۱ ص۲۳۴). ظفیر

([3]) وكذا یطهر محل نجاسة الخ مرئیة الخ بقلعها ای بزوال عینها الخ ویطهر محل غیرها ای غیر مرئیة بغلبة ظن غاسل الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ص۳۰۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۲۸) او لمرض یشتد او یمتد بغلبة ظن أوقول حاذق مسلم الخ تیمم (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب التیمم ص۲۱۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۳۳). ظفیر

دشنو او دوچو وښو دی ([1])، اوپر ډبري، دیوال، کچه او پخه خښته اوپر چونه باندی ددوړی څخه بغیر هم تیمم درست دی ([2]) پر لرګی وغیره باندی لړه دوړه هم کافی ده ([3]).

دغسل پرځای تیمم کله درست دی؟ **سوال**: (۲۸۸) یو چاته دیخنی په وجه زکام لګیږی نوهغه لره دیخنی په ورځوکی سهار یا بل دیخنی په وخت کی دنزلی درسیدلو بیره وی نو دجنابت دغسل په ځای کی تیمم کول اوپه دغه تیمم سره دسهار یا دبل وخت لمونځ ادا کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: داوبو داستعمال څخه عاجزوالی دتیمم دپاره شرط دی برابره خبره ده که هغه په دی وجه باندی وی چی اوبه نه وی اویا په دی وجه سره چی داوبو داستعمال سره دمرض دزیاتوالی بیره وی اویا دمرض داوږدوالی بیره وی یا دیخنی په وجه دهلاکیدلو یا دناروغه کیدلو اندیښنه وی اوګرمی اوبه نه پیدا کیږی، نوکه چیري په دی امورو کی یو امر پیدا سی نوتیمم جائز دی اوکه نه نو جائز نه دی په مسؤوله صورت کی که چیري دیخو اوبو سره دمریض کیدلو اندیښنه وی نو په ګرمو اوبو سره غسل کول په کاردی که چیري په ګرمو اوبو سره په غالب ګمان سره یا دحاذق مسلمان طبیب په قول دمریض کیدلو اندیښنه وی نوتیمم جائز دی کنې نه دی جائز، او لمرض یشتد اویمتد بغلبة ظن اوقول حاذق مسلم ولو بتحرك الخ، اوبرد یهلك الجنب او یمرضه ولو فی مصر اذا لم یکن له اجرة حمام الخ، درمختار ([4]). فقط

په تلوار سره یی دجنازي لمونځ په تیمم سره وکی نو په دې سره وختی لمونځ کولی سي:

سوال: (۲۸۹) زید دتلواري دوجه څخه تیمم وکی اوپه جنازه کی شریك سو نوددغه څخه وروسته فرض لمونځ هم په دغه تیمم باندی کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دغه تیمم باندی وختی فرضی لمونځ نه سی کولی، داوداسه کولوڅخه وروسته فرضی وختی لمونځ کول په کار دی. هکذا فی کتب الفقه ([5]). فقط

([1]) ولا یجوز عندنا بما لیس من جنس الأرض وهو ما یلین بالنار او یترمد کالذهب والفضة الخ وکالحنطة وسائر الحبوب والأطعمة في الفواکه وغیرها وأنواع النباتات مما یترمد بالنار إذا لم یکن علیه أغبار (غنیة المستملي ص۷۴ باب التیمم). ظفیر

([2]) ویجوز التیمم عند ابی حنیفة ومحمد بکل ما کان من جنس الأرض کالتراب والرمل والحجر والجص والنورة والکحل والزرنیخ الخ ثم لا یشترط أن یکون علیه غباراً (هدایه باب التیمم ص۵۵ ج۱). ظفیر

([3]) وکذا یجوز بالغبار مع القدرة علی الصعید عند الحنفیة ومحمد لأنه تراب رقیق (هدایه ایضًا) لو ان الحنطة او الشيء الذي لایجوز علیه التیمم إذا علیه الغبار فضرب یده علیه وتیمم ینظر إن کان یستبین اثره بمده علیه جاز ولا فلا (رد المحتار باب التیمم ج۱ ص۲۲۲، ط.س. ج۱ ص۲۴۰). ظفیر

([4]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۱۵ - ۲۱۲، ط.س. ج۱ ص۲۳۴. ظفیر =

داوبو دکموالي په وخت کی پرده نشینه ښځی تیمم وکړی اوکه نه؟ سوال: (۲۹۰) په بعضو کلیو کی داوبو قلت دی ددغه وجه څخه بعضو پرده نشینو ښځو ته بعض اوقات اوبه نه ورکول کیږی نوپه دغه اساس بعضی پرده نشینی ښځی لمونځ قضا کوی، نو ددوی دپاره څه حکم دی؟ آیا ددوی دپاره تیمم جائز دی اوکه نه؟

جواب: دتیمم اجازه ترهغه وخته پوری ده چی اوبه نه سی پیدا په ښار اوپه کلیو کی داصورت ډیر کم پیښیږی چی اوبه دي پیدا نه سی لیکن که چیري داسی صورت کله پیښ سی چی یا پرده داره ښځو ته په هیڅ صورت اوبه ورنه کول سی او وخت په تنګیدو وی نوپه تیمم سره دي لمونځ وکړی او قضاء کوی دي نه، ([1]) (وروسته دی اودس وکړی او اعاده دی وکړی. ظفیر)

که پرزخم یاپټی باندی مسح کول ګران وی نوڅه وکړی؟ سوال: (۲۹۱) که چیري پر زخم یا پټی باندی مسحه کول ګران وی نوڅه کول په کاردی؟

جواب: که چیري په زخم یاپټی باندی مسحه کول ګران وی اونه سی کیدلی نوبیا تیمم درست دی ([2]). فقط

دمریض کیدو دبیری دوجه تیمم جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۲۹۲) زید یوضعیف الجثه اودائم المریض شخص دی، دخپلو اعمالو په وجه یی صحت ډیر خراب سویدی، خصوصًا اعصاب اودماغ یی ډیر کمزوری دی، په دی حالت کی دژمی په موسم کی کله چی ده ته ضرورت شرعی پیښ سی اودسهار دلمونځ دقضاء کیدو په خیال په یخو اوبو سره دغسل نوبت راورسیږی نودسر درد یا دزکام وغیره تکلیف ورته لاحق سی، اوکله

([5]) جازالتیمم لخوف فوت صلاة جنازة الخ وان لم تجز الصلوة به وکذا لکل ما لاتشترط له الطهارة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۲۳ – ۲۲۴، ط.س. ج۱ ص۲۴۱). ظفیر

([1]) لا یتیمم لفوت جمعة ووقت ولو وترا لفواتها إلی بدل وقیل تیمم لفوات الوقت قال الحلبی فالأحوط ان یتیمم ویصلی ثم یعید (الدرالمختار علی هامش ردالمحتارباب التیمم ج۱ ص۲۲۷، ط.س. ج۱ ص۲۴۲) ددي عبارت څخه، او شامي چي په دي هکله څه لیکلي دی دهغه څخه په ښکاره ډول معلومیږي چي په داسي حالت کي دي بیا په اوبو سره اودس وکړي او دلمانځه اعاده دي وکړی ځکه داحتیاط همدا تقاضا ده: لعل هذا من هؤلاء المشائخ اختیار لقول زفر لقوة دلیله وهو ان التیمم انما شرع للحاجة إلی اداء الصلوة فی الوقت فیتیمم عند خوف فوته قال شیخنا ابن الهمام ولم یتجه لهم علیه سوی أن التقصیر جاء من قبله فلا یوجب الترخیص علیه وهو إنما یتم إذا أخر لا لعذر اهـ واقول إذا اخر لا لعذر فهو عاص والمذهب عندنا انه کالمطیع فی الرخص نعم تاخیره إلی هذا الحد عذر جاء من قبل غیرصاحب الحق فینبغی ان یقال تیمم ههنا ویصلي ثم یعید بالوضوء کمن عجز بعذر من قبل العباد الخ (ردالمحتار ایضا ط.س. ج۱ ص۲۴۲). ظفیر

([2]) ویترك المسح کالغسل إن ضر والا لا یترك (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المسح علی الخفین ج۱ ص۲۵۸، ط.س. ج۱ ص۲۸۰). ظفیر

کله داسی هم کیږی چي نه سي ورته لاحق، اوچونکه دګرمو اوبو حصول په وخت کي دبی سرو سامانی په وجه غیر ممکن وی ددی وجي مجبوراً دیخو اوبو څخه کار اخیستل کیږی چی دهغه سره یو داویر هم وی چی هسی نه چی فالج وغیره ورته ونه لګیږی ځکه چی په اعصابو کی ډیره کمزوری راغلی ده، دزید په دی حالت باندی یوصاحب نظر طبیب نظر ورکړی اوزید لره یی دا رایه ورکړه چی ته په داسی حالت کی دضرورت په وخت کی په ځای دغسل کولو په یخو اوبو سره دسهار لمونځ په تیمم سره کوه. او وروسته بیاپه ګرمو اوبو سره غسل کوه او دتیمم اوغسل څخه وروسته اودس کول او لمونځ کول په کاردی، او وروسته دغسل څخه احتیاطا دلمونځ داعادی ضرورت نسته؟

جواب: که چیري ګرمی اوبه میسری نه وی او دحاذق طبیب وغیره په قول باندی اوغالب ګمان باندی دمرض اندیښنه وی نوپه تیمم سره اودس کول درست دی اوچونکه دغسل تیمم داودس اوغسل دواړو دپاره دی، ددی وجي داودس کولو ضرورت هم نسته، هماغه یوتیمم ددواړو دپاره کافی دی (۱)، مګر احتیاط په دې کي دی چي وروسته په ګرمو اوبو سره غسل وکړي او دهغه لمونځ اعاده وکړي. (۲) فقط

جنب ته چي دزکام کیدو بیره وی نوتیمم کولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۹۳) دزید زیات احتلام کیږی اودیخنی دوجه څخه په غسل کولو سره ورته زکام کیږی اوتبه یی نیسی اوکه چیري دغرمی په وخت غسل وکړل سی نوزیات نقصان نه کیږی. په دی حالت کی چی زید دسهار لمونځ په تیمم سره وکړی نوصحیح ده اوکه نه؟ اوتیمم دغسل او داوداسه دواړو دپاره وکړی اوکه نه یوازی دغسل دپاره؟ او دغسل اعاده په غرمه کی وکړی اوکه نه تیمم کافی دی تربل احتلام پوری؟ او دجنابت داحتلام او دهمبستری دپاره یوحکم دی اوکه جدا؟

جواب: دمریضتیا دبیری دوجه څخه کله چی یخی اوبه ضررناکی وی یا ګرمی اوبه میسری نه وی نوبیا دتیمم سره لمونځ کول درست دی (۳) دغسل او داوداسه دپاره

---

(۱) او برد یهلك الجنب او یمرضه ولو في المصر اذا لم تکن له اجرة حما ولا یدفئه الخ یتیمم لهذه الاعذار کلها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیم ج۱ ص۲۱۲، ط.س. ج۱ ص۲۳۴). ظفیر

(۲) داعادې په اړه صریحه جزئیه پیدا نه سوه، کیدی سي چي ددرمختار ددې عبارت څخه را اخیستل سوي وي: لا تیمم لفوت جمعة ووقت ولو وترا لفواتها الی بدل، وقیل تیمم لفوت الوقت قال الحلبي فالاحوط ان یتیمم ویصلي ثم یعید (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ص۲۲۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۴۲). ظفیر

(۳) او لمرض یشتد او یمتد بغلبة ظن او قول حاذق مسلم الخ او برد یهلك الجنب او یمرضه الخ تیمم لهذه الاعذار کلها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ص۲۱۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۳۳ – ۲۳۴). ظفیر

یوتیمم دی یوتیمم ددواړو دپاره کافی دی، بیا په غرمه کی کله چی غسل ضررناکه نه وی غسل دي وکړی او دماپښین او دمازیگر وغیره لمونځونه دي وکړی ([1]) داحتلام اودجنابت اومجاعت حکم یودی یعنی ټول موجبات دغسل دی. (والمعانی الموجبة للغسل انزال المنی علی وجه الدفق والشهوة من الرجل والمرأة حالة النوم والیقظة الخ، هدایه فصل فی الغسل ص۳۸. ظفیر)

دناروغی یا دبوډاتوب په وجه چی داوبو استعمال ضررناک وی نو دغسل دپاره تیمم کولی سی اوکه نه؟ **سوال:** (۲۹۴) تیمم لکه څنگه چی دعذر په حالت کی داوداسه دپاره کیدی سي په همدغه ډول دغسل څخه هم کیدی سی اوکه نه؟ اودغسل دپاره په تیمم باندی فرض اونفل لمونځ کولی اودقرآن پاك تلاوت کولی سی اوکه نه؟ که چیري یو چاته دناروغتیا یا دبوډاتوب په وجه داوبو استعمال نقصان ورکونکی وی اویا دضرر بیره وی اویا داوبو استعمال وربانذی گران اوسخت وی اوتحمل کولی یی نه سی نو داوداسه اودغسل په تیمم سره فرض اونفل لمونځ اودقرآن پاك تلاوت کولی سی یعنی جائز دی اوکه نه؟

جواب: تیمم دعذر په حالت کی لکه څنگه چی داوداسه دپاره کیدی سی دغسل دپاره هم کیدی سی اوپه دی تیمم سره فرض اونفل لمونځ اوتلاوت دکلام مجید ټول درست دی ([2]). اوهغه عذر دکم په وجه چی دحدث او دجنابت تیمم درست دی هغه دادی چی دمریض دمرض دسختیدو اویا دمرض داوږدیدلو بیره وی یعنی داودس اویا غسل کولو څخه دغه مرض زیات اویا اوږد کیږی او یابه دیخنی دوجه هلاك اویا ناروغه کیږی محضي په دی وجه چی یخی اوبه دی اوبدی لگیږی اوگرانی وی اوپه هغو سره اودس یا غسل تکلیف وی تیمم درست نه دی، بلکه چی اندیښنه داوی چی مړبه سی او یابه ناروغه سی نودغه وخت بیا تیمم درست دی ([3]). فقط

([1]) لا یتیمم لفوت جمعة ووقت ولو وترا لفواتها إلی بدل، وقیل تیمم لفوات الوقت قال الحلبی فالأحوط أن تیمم ویصلي ثم یعید (درمختار) ولعل هذا من هولاء المشائخ اختیار لقول زفر لقوة دلیله وهو أن التیمم شرع للحاجة إلی أداء الصلوة فی الوقت فتیمم عند خوف فوته الخ (رد المحتار باب التیمم ص۲۲۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۴۲) ددی جزئیي څخه معلومه سوه چي په ذکر سوي صورت کي دي دسهار دلمانځه اعاده هم وکړي، والله اعلم. ظفیر

([2]) ویصلي بتیممه ماشاء من الفرائض والنوافل (هدایه باب التیمم ج۱ ص**۵۵**). ظفیر

([3]) من عجز عن استعمال الماء الخ لبعده ممیلا الخ او لمرض یشتد او یمتد بغلبة ظن اوقول حاذق مسلم الخ اوبرد یهلك الجنب او یمرضه الخ او خوف عدو الخ او عطش الخ او عدم آلة طاهرة یستخرج بها الماء تیمم لهذه الاعذار کلها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیم ج۱ ص۲۱۴ – ۲۱۸، ط.س. ج۱ ص۲۳۲ – ۲۳۲) قال فی البحر أنه متی قدر علی الأغتسال بوجه من الوجوه لا یباح له التیمم اجماعا (ردالمحتار باب التیمم =

داورګاړي سره متعلق دلمانځه، اوداسه اودتیمم مسائل: **سوال**: (۲۹۵) چونکه ددی ډیر ضرورت دی چی په لمانځه کی سستی راوستونکی مشکلات حل کړل سی، لهذا ستاسی دمحترم حضور څخه پوښتنه کیږی چی داورګاړی دسفر په حالت کی لاندینی او یا ددی په شان نور چی دجناب والا په ذهن کي راسی نو ددی وختونو دشرعی احکامو درویه ددی څه دفعه ده؟ مثلا داورګاړی دلږ دریدو په وجه دومره وخت پیدانه سی چی انسان پکښی دخپلو ضرورتونو اودغتو حاجتونو په داسی حالت کی چی په اورګاړی کی ټټی، او بیت الخلاء نه وی ځان فارغه کړی اودس وکړی اولمونځ وکړی نوڅه کول په کاردی؟ ایا په تیمم سره لمونځ وکړی اوکه څنګه؟ دمثال په توګه داورګاړی په سفر کی داوداسه اودشرعی غسل دپاره اوبه اووخت میسر کیدی نسی نو په تیمم سره لمونځ وکړل سی اوکه نه؟ مثلاً په روان اورګاړی کی لمونځ په داسی حالت کی کول چی دخلګو دزیاتوالی په وجه ځای نه وی، اویا قبلی ته مخ کول دکږ لیچونو په وجه ممکن نه وی نولمونځ څرنګه ادا کړل سی؟

جواب: حامداً ومصلیاً، امابعد: مستفسره امور په لاندی ډول سره دی:

۱. په اورګاړی کی که چیري دایقین وی چی دلمونځ په وخت کی به اوبه پیدا سی نودلمانځه وروسته کول مستحب دی نوکه چیري اوبه پیدا سوی نواودس دي وکړی اولمونځ دي ادا کړی، اوکه چیري پیدانه سوی او دوخت دتیریدلو اندیښنه وه نوتیمم دي وکړی، اولمونځ دي ادا کړی (۱) داوبو دپیدا کیدو په صورت کی اوبه کم ازکم دیوه میل په اندازه لیری والی شرط دی (۲).

۲. که چیري اوبه پیدا نه سوی اوپه دی صورت کی یوسړی تیمم وکی اولمونځ یی شروع کی او لا لمونځ نه ؤ ختم سوی چی اورګاړی تم ځای ته راورسیدی په کم ځای کی چی داوبو پیدا کیدل یقینی امردی نواوس اودس کول او لمونځ ادا کول په کاردی، اوکه چیري دلمونځ دختمولو څخه وروسته اورګاړی تم ځای ته راغی چیري چی داوبو دپیدا کیدلو یقین دی نوهغه لمونځ وسو اودهغه ددوباره کولو حاجت نه سته (۳).

= ج۱ ص۲۱۲، ط.س. ج۱ ص۲۳۴). ظفیر

(۱) ویستحب لعادم الماء وهو یرجوه ان یؤخر الصلوة إلی آخر الوقت فان وجد الماء یتوضأ وإلا تیمم وصلی لیقع الأداء بأکمل الطهارتین الخ (هدایه باب التیمم ج۱ ص۵۵). ظفیر

(۲) من عجز عن استعمال الماء لبعده میلا الخ تیمم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۱۴، ط.س. ج۱ ص۲۳۲). ظفیر

(۳) وندب لراجیه رجاء قویا التاخیر الی آخر الوقت ولو لم یؤخر وتیمم وصلي جاز إن کان بینه وبین الماء میل وإلا لا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۲۹، ط.س. ج۱ ص۲۴۹). ظفیر

۳. داورګاډی په تم ځای کی که چیري اوبه وړیا نه پیدا کیږی بلکه په قیمت سره پیدا کیږی نوکه قیمت دعرف موافق ؤ، اودده سره یی قیمت موجود ؤ نوپه بیعه دي واخلی اواودس دي وکړی اولمونځ دي وکړی اوتیمم جائز نه دی اوکه چیري قیمت ورسره نه وی یا قیمت زیات ګران وی نو تیمم دي وکړی اولمونځ دي وکړی (۱).

۴. داورګاډی په تم ځای که چیري اوبه ورکونکی مسلمان نه وی بلکه هندو وی نودهغه اوبه اخیستل اواودس کول جائز دی. (په استیشن تم ځای کی چی کمی اوبه تقسیمیږی هغه عموماً پاکی وی اودهغه لوښی هم لهذا شبه کول نه ی په کار. ظفیر)

۵. که چیري په اورګاډی کی دیو مسافر سره اوبه وی نوهغه لره داوداسه دپاره اوبه غوښتل په کاردی، نوکه چیري هغه اوبه بلا قیمته یا سره دقیمته ورکړی نو اوداس دي وکړی، اوکه چیري هغه اوبه ورنه کړی نوتیمم دي وکړی اولمونځ دي ادا کړی په داسی صورت کی داوبو دغوښتلو څخه شرم کول نه دی په کار، ځکه چی شرعی فرض ادا کول زیات ضروری دی ترڅو پوری چی اوبه ونه غواړی عجز به نه موندل کیږی نوتیمم به هم درست نه وی (۲). (نن سبا په هر اورګاډی کی داوبو انتظام وی اوهغه اوبه پاکی وی اوپه هغو سره اودس اوغسل کول جائز دی، ددی وجي دتیمم نوبت نه پیښیږی. ظفیر).

۶. دیوچا سره اوبه موجودی دی اوهغه ته دامعلومه ده چی داورګاډی په تم ځای کی اوبه نه پیدا کیږی نوکه چیري اودس وکړی نوتږی به پاته سی اودتندی برداشت به ونه کړی سی نو دتیمم سره دي لمونځ وکړی (۳).

۷. داورګاډی مسافرته چی داودس ماتی ضرورت وی نو اول دي داودس ماتی څخه ځان فارغه کړی او وروسته دي اودس وکړی اولمونځ دي وکړی که چیري داودس ماتی (بول اوبراز) ضرورت خوئی ؤ خو دموقع دنه پیدا کیدو دوجه څخه عاجز پاته سی اوڅه ساعت وروسته ورته ضرورت پاته نه سو نواوس اودس اولمونځ کولی سی. (په اورګاډی کی داودس ماتی نظام وی. ظفیر)

۸. دمسافر سره یوه لوټه اوبه دی کمی چی داوداسه دپاره کافی دی داودس او دطهارت

---

(۱) وإن لم يعطه إلا بثمن مثله او بغبن يسير وله ذلك فاضلا عن حاجته لا يتيمم ولو اعطاه بأكثر يعنى وهو ضعف قيمته فى ذلك المكان او ليس له ثمن ذلك تيمم (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب التيمم ج۱ ص۲۳۱، ط.س. ج۱ ص۲۵۱). ظفير

(۲) ويطلبه وجوبا على الظاهر من رفيقه ممن هو معه فان منعه ولو دلالة بان استهلكه تيمم لتحقق عجزه الخ وقبل طلبه لا يتمم على الظهر الخ لأنه مبذول عادة وعليه الفتوىٰ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۱ ص۲۳۱). ظفير

(۳) وخالف السبع والعدو والعطش عاجز حكماً (هدايه باب التيمم ج۱ ص۵۵، ط.س. ج۱ ص۲۵۰). ظفير

دواړو دپاره کافی نه دی نو داسی سړی ته که دلوی اودس ماتی حاجت وی نوهغه دي په لوټو باندی استنجاء وکړی دلمونځ دپاره دي تیمم ووهی ([1]) (نن سبا داورګاډی په تم ځایونو کی داوبو نلکی لګیدلی وی اوهغه اوبه پاکی وی او دهغو داستعمال عام اجازت وی. ظفیر)

۹. داورګاډی دمسافر دپاره په کاردی چی هغه دي دلمانځه دوخت څخه مخکی دلمانځه خیال اواهتمام وکړی مثلا که چیري داودس ضرورت یی وی نوځان دي فارغ کړی په اورګاډی کی عموماً داودس ماتی ځایونه وی، اوکه چیري اتفاقا په اورګاډی کی داودس ماتی ځایونه نه وی نو ددی خیال دي وساتی چی دوخت څخه مخکی په داسی تم ځای کی چیري اورګاډی لس پنځلس منټه دریږی ځان دي فارغه کړی، اویا دي یوې بل ګاډی ته ورسی او داودس ماتی څخه دي فراغت حاصل کړی همدغه ډول دلمانځه دوخت څخه مخکی دي دیوتم ځای څخه اوبه راواخلی او کنبیږدی یی، چی دلمانځه په کولوکی دقت اوسختی نه وی، اخر موږ دخپلو نورو حاجتونو دپاره په اورګاډی څه څه کوو، کله چی داورګاډی په یوه تم ځای کی دطبیعت موافقه ډوډی وغیره پیداکیږی نو داول څخه یی واخلو او پټه یی کړو، ددی دپاره چی پروخت باندی دقت اوتکلیف نه وی، همدغه ډول دلمونځ خیال ساتل دیوه مسلمان نصب العین کیدل په کاردی.

۱۰. څرنګه چی بی اودسه کس داوبو دنه پیدا کیدو په صورت کی دتیمم سره لمونځ کولی سی، لکه څرنګه چی پوره او مفصل ذکر سول اودغه رنګه جنب یعنی چاته چی دلمبلو حاجت وی نو داوبو دنه پیدا کیدلو په صورت کی دغسل دپاره تیمم کولی سی اولمونځ په داسی صورتونوکی ترك کیدلی نه سی ([2]).

۱۱. که چیري ده ته یقین وی چی دلمانځه په وخت کی به دننه ګاډی یوداسی سټیشن ته ورسیږی په کم ځای کی چی داوبو نلکه ده یا څاه دی اودی په دومره وخت کی غسل کولی سی نوتیمم کول نه دی په کار. ([3])

([1]) ویجب أن یفرض غسله إن جاوز المخرج نجس مانع ویعتبر القدر المانع لصلاة فی ماوراء موضع الإستنجاء لأن ما علی المخرج سقط شرعا وان کثر وهذا لا نکره الصلوة معه (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الإستنجاء ج۱ ص۳۱۳ – ۳۱۴، ط.س. ج۱ ص۳۳۸). ظفیر

([2]) والحدث والجنابة فیه سواء وکذا الحیض والنفاس لما روی أن قوما جاءوا إلی رسول الله ﷺ وقالوا إنا قوم نسکن هذه الرمال ولا نجد الماء شهرا او شهرین وفینا الجنب والحائض والنفساء فقال علیکم بأرضکم (هدایه باب التیمم ج۱ ص۱۵۲ – ۱۵۳). ظفیر

([3]) ویجب أن یفترض طلبه ولو برسوله قدر غلوه ثلاث مائة ذراع الخ إن ظن ظنا قویا قربه دونه میل بأمارة او إخبار عدل وإلا الخ لا یجب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۱۴، ط.س. ج۱ ص۲۴۶). ظفیر الدین مفتاحی غفرله

۱۲. نلکه په لمرکی ده چی دهغی اوبه گرمی دی اوپه یقین سره پوهیږی چی په دی اوبو سره به مضرت وی یا دیخنی په موسم کی دنلکی اوبه یخی دی اویقین یی دی چی که چیري غسل وکړم نومریض به سم نو په تیمّم سره دي لمونځ وکړی ([1]).

۱۳. پر نلکه باندی دلمبلو له امله که چیري شرم ورځی او دستیشن پرڅاه باندی لمبل دخپل ډول خلاف گڼی نو داعذر شرعًا قبول او مسموع نه دی.

۱۴. په اورگاډی کی استقبال الی القبلة ضروری دی دقبلې طرف ته دي مخ کړی اولمونځ دي شروع کړی او دلمانځه کولو په حالت کی که چیري داورگاډی مخ بدل سی اودی پوهیږی چی داورگاډی مخ بدل سو نودی دي هم دقبلی طرفته وگرځی اوکه چیري دده دلمونځ کولو په حالت کی داورگاډی مخ څوځله بدل سو اوده دقبلی پربرابر په مخ کیدلو سره لمونځ ادا کی او دلمانځه څلور واړه رکعتونه څلورو طرفونو ته ادا سول نوهیڅ مضائقه دی نه گڼی، بلکه همداسی کیدل ضروری دی اوکه چیري دی دلمونځ کولو په حالت کی دریل دمخ په بدلیدلو باندی خبر نه سو اوهم یوه طرف ته یی لمونځ وکی نولمونځ وسو، که چیري په ریل کی دقبلی سمت معلوم نه وی نو دخلگو څخه دي معلوم کړی، اوکه چیري څوك ښودونکی نه وی نوپه زړه کی دي ښه غور وکړی او داټکل څخه دي کار واخلی چی کم طرفته دده زړه گواهی وکړی هم هغه طرف ته دي لمونځ ادا کړی ([2]).

۱۵. په ریل کی دي بغیر دعذر څخه په ناستی لمونځ نه کوی ځکه چی په لمانځه کی قیام فرض دی هغه پریښودل په کارنه دی، دافکر کول چی په ولاړی لمونځ نه سم کولای محض وهم دی ځکه چی په تجربه ښودل سویده چی په سوونو کسان په ریل کی په ولاړه لمونځ کوی، اوپه هغوی کی یی هیڅ څوك نه غوځاریږی نه هغوی ته چکر ورځی، نه قی کیږی ([3]).

([1]) الجنب الصحيح فی المصر إذا خاف بغلبة ظنه عن التجربة الصحيحة إن إغتسل أن يقتله البرد او يمرضه يتيمم عند أبی حنيفة وإن كان الجنب خارج المصر يتيمم بالإتفاق (غنية المستملي ص۷۴). ظفير

([2]) وقبلة العاجز عنها لمرض وإن وجد موجها عند الإمام او خوف مال وكذا كل من سقط عنه الأركان جهة قدرته الخ ويتحري وهو بذل المجهود لنيل المقصود عاجز عن معرفة القبلة بما مر فان خطأ لم يعد لمامر وإن علم به فی صلوته او تحول رايه إلخ إستدار وبنی حتی لو صلی كل ركعة لجهة جاز (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص۴۰۳، ط.س. ج۱ ص۷۳۲) ومن أراد أن يصلی فی سفينة تطوعا اوفريضة فعليه ان يسقبل القبلة الخ حی لو دارت السفينة وهو يصلی توجه إلی القبلة حيث دارت الخ (عالمگيري فی إستقبال القبلة ج۱ ص۵۹، ط. ماجدية ج۱ ص۲۳). ظفير

([3]) من تعذر عليه القيام لمرض حقيقی وحده أن يلحقه ضرر به يفتی الخ او حكمی بأن خاف زيادته الخ او =

۱۲. دریل حکم دکښتي او اوبو او دآس غوندې نه دی، په کښتي کې دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد په ناسته لمونځ کول جائز دی ځکه چې دسر ګرځیدل اکثره ورسره واقع کیږي خو دامام اوبویوسف اوامام محمد رحمهما الله په نزد په کښتي کې هم بغیر دعذر څخه لمونځ کول جائز نه دی ترڅو پورې چې دسر ګرځیدل او دزړه خرابیدل نه وی پر آس او نورو بار وړونکو حیواناتو باندې بې له عذره فرض لمونځ ادا کول درست نه دی اودآس په ګاډی اوپه نورو څلورو پښو لرونکو ګاډیو کي په هغه وخت کي چې حیوان تلونکی نه وي اوهغه پر ځمکه باندې ولاړه وی نوپه هغه کې لمونځ په ولاړې باندې په کاردی، داعلماؤ دتخت مشابه ګرځولی دی، ریل چې کم صاحب پرکښتي باندې قیاس کوی نوهغه په ناسته باندې دلمانځه دورکولو رایه لری، خو واضحه دي وی چې دصاحبینو په نزد هم په کښتي کې ترڅو پورې چې دوران دسر اودزړه خرابیدل نه وی په ناستي لمونځ کول جائز نه دي، او امام صاحب په دی خیال سره چې اکثره په کښتي کې دسرچکر اوګرځیدل وی نوپه ناسته لمونځ جائز وګرځوی او صاحبینو ددی موجود کیدل ضروری ونه ګڼل، په هرحال دقیام دپریښودلو وجه دوران دسر دی، لیکن په ریل کې سفر کوونکی پوهیږی چې دوران دسر نه کیږی موږ شپه اوورځ ګورو چې په زرګونو کسان سرې ښځی، بوډاګان اوواړه دهرملك اوسیدونکی په ریل کې سفر کوی اوچاته هم دوران دسر نه کیږی نواوس پوهیدل په کاردی چې ریل ته دکښتي سره مناسبت په دی معنٰی کی نه سته نوبیا قیام ولی پریښودل سی؟ پرتخت باندې چې دلمونځ کولو کم حکم دی هم هغه دریل سره مناسب معلومیږی په تخت کې چې تیرونه ولګول سی اوهغه وچلول سی نو دهغه کم حکم چې دلمانځه کولو په حق کی ؤ هغه به پر خپل حال وی، نو هیڅ وجه نه معلومیږی چې په ریل کی دي دلمونځ کوونکی څخه قیام ساقط سی پاته سوه دا چې په ولاړې په لمونځ کولوکی دغوځاریدلو اندیښنه ده نودا محض وهم دی تجربه ددی خلاف ګواهی ورکوی کم ازکم یوځل امتحان کول خو په کاردی چې غوځاریږی اوکه نه؟ سر له اول څخه ددی وهم په وجه فریضهٔ الهی پریښودل دعقل خبره نه ده (۱).

= دوران راسه او وجد لقیامه لما شدیدا الخ صلی قاعدا الخ وإن قدر علی بعض القیام ولو متکئًا علی عصا او حائط قام لزوما بقدر مایقدر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المریض ص۷۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۹۵ - ۹۶ - ۹۷). ظفیر

(۱) صلی الفرض فی فلك جار قاعدا بلا عذر صح لغلبة العجز وأساء قالا لا یصح إلا بعذر وهو الأظهر والمربوطة فی الشط کالشط فی الأصح والمربوطة بلجة البحر إن کان الریح یحرکها شدیداً فکا السائرة وإلا فکالواقفة =

۱۷. په اورګاډی کی بعض خلګ داسی لمونځ کوی چی دریل پریوه تخته باندی پښی زوړندی کړی او کښینی چی پر چوکۍ باندی کښینی اوپر دویمه تخته باندی سجده کوی دا جائز نه دی په داسی کولو سره لمونځ نه ادا کیږی ځکه چی په دي کی خو اول دقیام پریښودل وسوه اوقیام فرض دی اودیم داچی په سجده کی دزنګنونو لګول پرمځکه باندی هم فرض دي هغه هم پریښودل سوه. (۱) په ریل کی که چیري قبله په داسی طرف باندی واقع وی نوپه مینځ کی دي څه اسباب کښیږدی اوپر یوه تخته باندی لمونځ کول په کاردی اوپر مخامخ تخته باندی سجده کول په کاردی که خپل اسباب یی نه وی نودنورو مسافرانو چی کم ډیر اسباب موجودوی دهغوی په اجازت سره هغه ایښودلی سی اوکه چیري اسباب نه وی یا پیدا نه سی نودغه ډول لمونځ نه دی کول په کار، کله چی سټیشن ته راسی نوهلته دي لمونځ وکړی که چیري په ریل کی مسافر دومره زیات وی چی دلمانځه کولو هیڅ صورت جوړ نه سی اوسجده اورکوع نه سی کیدی نو لمونځ په داسی حالت کی مؤخر کول په کاردی اوپه اشاری سره لمونځ کول نه دی په کار.

۱۸. بعضو خلګو په دی خیال سره لمونځ پرې ایښی دی چی خلګو ته به تکلیف وی یاهغوی به دلمانځه دپاره ځای ورنه کړی، خودا فکر صحیح نه دی دلمانځه دپاره ځوك بخل نه کوی اکثره داتجربه سویده چی مسلمان خو مسلمان دی بلکه هندوان خلګ هم په ډیر بشاشت سره دلمانځه کولو دپاره ځای دلږ ساعت دپاره خالی کوی، نوپه دی فکر سره دلمانځه پریښودل مناسب نه دی، آخر کله چی مسلمان مجبور سی نو دې مسافرو ته دخپل پرېوتلو او دبیده کیدلو دپاره دځای خواهش کوی نو بیا یې دلمانځه دپاره کمه

= (درمختار) قوله لغلبة العجز أی لأن دوران الرأس فيها غالب والغالب كالمتحقق فأقيم مقامه، قوله وأساء أشار إلى ان القيام افضل لأنه أبعد عن شبهة الحق والخروج أفضل إن امكنه لأنه أمكن لقلبه قوله هو له هو الأظهر وفى الحلية بعد سوق الأدلة والأظهر أن قولهما أشيد فلا جرم إن فى الهادى القدسي وبه نأخذ آه قوله والمربوطة فى الشط الخ فلا تجوز الصلوة فيها قاعدا إتفاقا الخ وعلى هذا ينبغى ان لا تجوز الصلوة فيها مع إمكان الخروج إلى البر، قوله وإلا فكالواقفة أى إن لم تحركها الريح شديدا بل يسيرا فحكمها كالواقفة فلا تجوز الصلوة فيها قاعدا مع القدرة على القيام (ردالمحتار باب صلوة المريض ج۱ ص۷۱۳ - ۷۱۴) دعلامه مفتى صاحب دڅیړنې څخه معلومیږي چي که چیري یو سړی غوځاریږي نوپه هغه صورت کي په ناسته په ریل کي لمونځ صحیح دی، دهندوستان ځیني واړه لینونه داسي دي چي په هغو کي په ولاړه لمونځ نه سي ادا کیدای بلکه ځوك پکښي غوځاریږي، ځکه نو پرهمدغو لینونو باندي په ناسته لمونځ کول صحیح دي، والله اعلم. ظفير

(۱) ومن فرآئضها القيام بحيث لو مر يديه لا يناله ركبتيه الخ ومنها السجود بجبهته وقدميه الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۷۱۲، ط.س. ج۱ ص۴۴۴). ظفير

چې فريضۀ الهی ده ولې ونه کړی؟ په دی وخت کی صرف دايوڅو صورتونه په ذهن کی راغلل او دهغو په اړوند مختصر تفصيل وليکل سو. فقط

دفالج او دنورو مرضونو دويرې څخه تيمم جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۲۹۲) دزيد عمر ۷۷ کاله سو اوپه سبب دژمی دورځو دفالج او دنورو مرضونو دبيرى څخه دسهار اودماخستن لمونځ په تيمم سره کوی داجائز دی اوکه نه؟ او دده دعمر دپاره څه خاص حکم دلمونځ او دنورو په باره کی سته اوکه نه؟ بل داچی شيخ فانی دکم عمر وی او دهغه دپاره شرعًا کم کم رعايتونه دی؟

جواب: دشيخ فانی دپاره دڅه خاص عمر تحديد نسته شرعًا، بلکه شيخ فانی هغه بوډاته وايی کم چی مرګ ته نژدی وی اوورځ په ورځ اووقتًا په وقتًا دهغه قوت دزوال او دکمی طرف ته وی تردی پوری چی مړ سی دداسی شيخ فانی دپاره په روژه کی داحکم دی چی هغه دي دروژی فديه ورکوی نو دشيخ فانی دپاره صرف دروژی په متعلق تخفيف سوی دی (۱) او دلمانځه دپاره څه خاص حکم دشيخ فانی دپاره نسته، بلکه دلمونځ متعلق عام حکم دادی چی هرڅوك برابره خبره ده که دهرڅومره عمر وی ترڅو پوري چي په ولاړي سره لمونځ کولای سي نو په ناستي سره لمونځ نه دی ورلره جائز (۲) همدارنګه ترڅو پوری چی بيماری او نور څه عذر نه وی نوتيمم دهغه دپاره درست نه دی اوکه چيري په يخو اوبو سره دژمی په موسم کی دضرر انديښنه وی نوکه چيري دګرمولو قدرت يی وی نو اوبه دي په چا ګرمی کړی او په هغو سره دي اودس وکړی اوتيمم په داسی حالت کی هم درست نه دی (۳). فقط

---

(۱) وللشيخ الفاني العاجز عن الصوم الفطر ويفدى وجوبا (درمختار) قوله للشيخ الفاني الذى فنيت قوته او اشرف على الفناء ولذا عرفوه بأنه الذي كل يوم ينقص إلى أن يموت (رد المحتار كتاب الصوم فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم ج۲ ص۱۲۳، ط.س. ج۲ ص۴۲۷). ظفير

(۲) ومن فرائضهما التى لا تصح بدونها التحريمة قائما الخ ومنها القيام الخ فى فرض وملحق به كنذر وسنة فجر فى الأصح لقادر عليه وعلى السجود (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۴۲ - ۴۴۴). ظفير

(۳) إذا خاف المحدث إن توضأ أن يقتله البرد او يمرضه تيمم الخ لكن الأصح عدم جوازه اجماعا كذا فى النهر الفائق والصحيح أنه لا يباح له التيمم كذا فى الخلاصه وفتاوى قاضيخان (عالمگيري كشوري الباب الرابع فى التيمم ج۱ ص۲۲، ط. ماجدية ج۱ ص۲۸) مګر دعلامه شامي دتحقيق مطابق که چيري په اودس کولو کي ضرر متحقق وي نو دتيمم اجازت دي په دي اړه چي هغه کم تفصيل نقل کړيدی هغه مطالعه کړی: قيد بالجنب لأن المحدث لا يجوز له التيمم للبرد في الصحيح خلافا لبعض المشايخ كما في الخانية والخلاصة وغيرهما وفي المصفى أنه بالإجماع على الأصح قال في الفتح وكأنه لعدم تحقيق ذلك في الوضوء عادة اهـ واستشكله الرملي بما صححه في الفتح وغيره في مسألة المسح على الخف من أنه لوخاف سقوط رجله من البرد بعد مضي مدته =

دتبی په حالت کی په تیمم سره لمونځ کیږي اوکه نه؟ سوال: (۲۹۷) دتبی په حالت کی په تیمم سره لمونځ کیږي اوکه نه؟

جواب: که چیري تبه داسی وی چی داوبو داستعمال سره دضرر اویا دمرض دزیاتوالی اندیښنه وی نوتیمم درست دی کما فی الدرمختار اولمرض یشتد اویمتد الخ (۱). فقط

دتبی په اندیښنه کی تیمم کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۲۹۸) یو چاته په یخو اوبو سره په اودس کولو کی دیخنی کیدلو او دتبی اندیښنه ده نوکه چیری داکس په گرمو اوبو سره اودس کول غواړی نوده ته یادده ښځی ته اکثره په اوبو گرمولو کی تکلیف وی نودغه کس تیمم کولی سی اوکه نه؟

جواب: کله چی داوبو دگرمولو او ورسره داودس کولو استطاعت سته نو دتیمم کول ده ته درست نه دی (۲). فقط

دمرض په اندیښنه کی دمریض دطبیعت او دطبیب دخبری دواړو اعتبار دی: **سوال**: (۲۹۹) دعلالت او ناروغي په وخت کی چی تیمم جائز دی نو په دي کی دمریض طبیعت ته اعتبار دی اوکه نه طبیب حاذق ته؟ اوکه بل څه معیار یی دی؟

جواب: په درمختار کی دی: او لمرض یشتد اویمتد بغلبة ظن او قول حاذق مسلم الخ (۳) ددي څخه معلومه سوه چی په تیمم کی طبیعت او تجربی اوگمان غالب ته هم دخل دی او دطبیب حاذق قول ته هم، په دي کی چی هریو موجود سی نو دتیمم دپاره مبیح دی (۴). فقط

که دبیمارتیا بیره وی نوڅه وکړی؟ سوال: (۳۰۰) زما طبیعت کمزوری دی اوماته داحتلام تکلیف پیښ دی چی ډیر کم به یوه شپه ناغه کیږی، اوس موسم یخ دی نو دسهار لمونځ

= یجوز له التیمم قال ولیس هذا إلا تیمم المحدث لخوفه علی عضوه فیتجه ما في الأسرار من اختیار قول بعض المشایخ أقول: المختار في مسألة الخف هو المسح لا التیمم كما سیأتي في محله إن شاء الله تعالی نعم مفاد التعلیل بعدم تحقیق الضرر في الوضوء عادة أنه لو تحقق جاز فیه أیضا اتفاقا ولذا مشی علیه في الإمداد لأن الحرج مدفوع بالنص وهو ظاهر إطلاق المتون (ردالمحتار باب التیمم تحت قوله او برد یهلك الجنب الخ ج۱ ص۲۱۲، ط.س. ج۱ ص۲۲۴). ظفیر

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۱۵، ط.س. ج۱ ص۲۳۳. ظفیر

(۲) إذا خاف المحدث إن توضأ أن یقتله البرد او یمرضه الخ الأصح عدم جوازه إجماعا وكذا فی النهر الفائق والصحیح أنه لا یباح له التیمم كذا فی الخلاصة وفتاوی قاضیخان (عالمگیري كشوري الباب الرابع فی التیمم ج۱ ص۲۹، ط. ماجدیة ج۱ ص۲۸). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۱۵، ط.س. ج۱ ص۲۳۳. ظفیر

(۴) قوله بغلبة ظن ای عن أمارة او تجربة شرح المنیه قوله او قول حاذق مسلم ای إخبار طبیب حاذق مسلم غیر ظاهر الفسق وقیل وعدالته شرط شرح المنیه (رد المحتار باب التیمم ص۲۱۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۳۳). ظفیر

دجنابت په حالت کی وکړم اوکه څه؟ ځکه چی دسهار په وخت کي په غسل کولو سره دنمونیه ناروغی اندیښنه ده؟

جواب: شرعی حکم په داسی صورت کی دادی چی که چیري په ګرمو اوبو سره په غسل کولوکي مضرت نه وی نو دګرمو اوبو سره دي غسل وکړل سی، او دسهار لمونځ دي پرخپل وخت باندی ادا کړل سی اوکه چیري دګرمو اوبو سره هم بیره وی دمرض په غالب ګمان باندی او یاګرمی اوبه میسري نه وی نوتیمم دي ووهی او دسهار لمونځ دي پرخپل وخت باندی وکړي او وروسته دي یوولس بجی دعادت موافق غسل وکړي اوباقی لمونځونه دي په خپلو وختونو کی ادا کړی (۱). فقط

نواقض وضوء دجنابت دتیمم دپاره ناقض نه دي: **سوال**: (۳۰۱) که چیري جنب په شرعی عذر سره تیمم دجنابت وکړی نو دغه تیمم دوضوء په نواقضو سره ماتیږی اوکه؟

جواب: جنب که چیري په شرعی عذر سره تیمم وکړی نو ددغه عذر په ختمیدلو به هغه تیمم هم زائل سی مثلاً داوبو دنه پیدا کیدلو په وجه یی تیمم کړی ؤ نوکه چیري اوبه پیدا سوی اوقدرت یی وسو نو تیمم دجنابت به مات سی یاکه یې دناروغي په وجه تیمّم کړی ؤ نوکله چي هغه ناروغي ختمه سي هغه تیمّم به هم مات سي، اویا که کم دغسل واجبوونکی امر موجود سو نو تیمم به مات سی اوپه نواقض وضوء سره به مطلقًا هغه تیمم نه ماتیږی، مثلا هغه دجنابت دوجه څخه تیمم دجنابت وکی یا داوبو دنه پیدا کیدلو په وجه سره یې تیمم وکی، بیا هغه ته داسي بې اودسي چي داوداسه واجبوونکي وه پیښه سوه نو په هغه باندي به دجنابت تیمّم نه ماتیږی (۲). فقط

دمعذوره دپاره تیمم جائز دي اوکه نه؟ **سوال**: (۳۰۲) داستنجاء دزیاتوالی له امله په کم سره چی اودس ماتیږی ساعت په ساعت، اوداسی نور شکایات دخیټی په کمو سره چی اودس پاته کیدل یقینی نه سی کیدی نوکه چیري اودس وکړل سی نو دمرض دپیلیدو باعث کیږی نوپه داسی صورت کی دتیمم دپاره څه حکم دی؟

جواب: دداسی عذرونو حکم په شریعت کی بل دی هغه داچی کم کس معذور وی دهغه اودس نه پاته کیږی برابره خبره ده که دهوا په وتلو سره وي یا دختی دخوږیدلو په وجه سره، نوهغه بغیر دعذر دوجه څخه لمونځ په وخت کی دننه نه سی کولای نوهغه لره

---

(۱) والجنب الصحيح إذا خاف بغلبة ظنه عن التجربة الصحيحة إن إغتسل أن يقتله البرد او يمرضه يتيمم عند ابى حنيفة (غنية المستملي ص۷۴). ظفير

(۲) وناقضه ناقض الأصل ولو غسلا فلو تيمم للجنابة ثم احدث صار محدثا لا جنب الخ وقدرة ماء كاف بطهره فضل من حاجته الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب التيمم ج۱ ص۲۳۴ – ۲۳۵، ط.س. ج۱ ص۲۵۴). ظفير

صرف يوځل اودس په وخت کی دننه کافی دی، په همدغه یو اودس سره په ټول وخت کی لمونځ فرض، سنن اونوافل کولی سی باقی ددی تفصیل دي دفقهی په کتابونوکی وکتل سی ([1]). فقط

جنب ته که چیري په غسل سره دنقصان خطره وي نوپه تیمم سره لمونځ کولی سی: سوال:

(**۳۰۳**) زید جنب سویدی جومات ته ولاړی چی لمونځ په جماعت سره ادا کړی، وایي چی ماته همیشه ریزش او ددماغو کمزوری عارضه او لاحق کیږی او غسل دسهار په وخت کی ماته ضرر رسوی که ګرمی اوبه میسری هم سی خو بیاهم ضرر رسوی نوتیمم درست دی اوکه نه؟ اوکه چیري په ګرمو اوبو غسل وکړی او اور ته نژدی لمونځ وکړی نوجماعت فوت کیږی، شرعی حکم څه دی؟

جواب: که چیري قوی ګمان وي چی ضرر اومرض به ورته ورسیږی، اګرکه په ګرمو اوبو غسل وکړی اوګرمه جامه حاصله کړی اوپه دی صورت کی دمرض بیره نه وی نو همدغه ډول دي وکړی اګرکه جماعت فوت سی ([2]). فقط

اوبه چی موجودی وی نو قرآن شریف ته دلاس وروړلو دپاره تیمم جائز دی اوکه نه؟ سوال:

(**۳۰۴**) دقرآن شریف دمسه کولو دپاره په وخت دوجود داوبو کی تیمم درست اوکه نه؟

جواب: درست نه دی ([3]). فقط

ماشوم ته دمرض دخطری په وخت کی دمور دپاره تیمم وهل درست دی اوکه نه؟ سوال:

(**۳۰۵**) یوه ښځه خپل بچی ته شیدی ورکوی کم چی لوی اوکوچنی اودس مات دمور

([1]) وصاحب عذر من به سلس البول لا یمکنه إمساکه او استطلاق بطن او انفلات ریح او استحاضة الخ إن إستوعب عذره تمام وقت صلاة مفروضة بأن لایجد فی جمیع وقتها زمنا یتوضأ ویصلي فیه خالي عن الحدث ولو حکما لأن الإنقطاع الیسیر ملحق بالعدم وهذا شرط العذر فی حق الإبتداء وفی حق البقاء ای وجوده فی جزء من الوقت ولو مرة وفی حق الزوال یشترط استیعاب الإنقطاع تمام الوقت حقیقة لأنه الإنقطاع الکامل وحکمه الوضوء لا غسل ثوبه ونحوه لکل فرض اللام للوقت ثم یصلي به فیه فرضا ونفلا فدخل الواجب بالأولی فاذا خرج الوقت بطل ای ظهر حدثه السابق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام المعذور ج۱ ص۲۸۰ – ۲۸۱ – ۲۸۲، ط.س. ج۱ ص۳۰۵). ظفیر

([2]) من عجز عن إستعمال الماء المطلق الکافی لطهارته الخ لبعده میلا الخ او برد یهلك الجنب او یمرضه ولو فی المصر الخ (درمختار) قال فی البحر فصار الأصل أنه متی قدر علی الإستعمال بوجه من الوجوه لا یباح له التیمم اجماعا (رد المحتار باب التیمم ج۱ ص۲۱۲، ط.س. ج۱ ص۲۳۲). ظفیر

([3]) قلت وفی المنیة وشرحها تیممه لدخول مسجد ومس مصحف مع وجود الماء لیس بشئ بل هو عدم لأنه لیس بعبادة یخاف فوتها الخ لما مر من الضابط انه یجوز لکل ما لا تشترط الطهارة له ولو مع وجود الماء وأما ما تشترط فیشترط فقد الماء کتیمم لمس مصحف فلا یجوز لواجد الماء الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ص۲۲۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۴۴). ظفیر

پرجامو باندی کوی، او هغه ښځه وایی چي په دی وجه سره چی زما په متواتر غسل سره به ماشوم ناجوړه سی یابه زه پخپله ناجوړه سم نه لامبی نو په دی وجه آیا دی لره قرآن پاك لوستل جائز دی اوکه نه؟

جواب: که چیري په پرله پسی غسل سره دی ته دخپل ځان یا دماشوم دبیمارتیا بیره وی نوتیمم دي وکړی اولمونځ دي وکړی بیا دي دلمر په وخت کی یا په ګرمو اوبو سره غسل کوی او ددغه لمونځونو دي بیا اعاده کوی او دتیمم څخه وروسته دقرآن پاك تلاوت هم درست دی. ([1]) فقط

پر یو ځای باندی څو واره تیمم درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۰۲) په اکثره جوماتونوکی لیدل سوی دی چی دتیمم دپاره دخاوری یوه ګوله جوړه وی اوپه هغی باندی تیمم کوی یو مولوی صاحب وایی چی په دی ګوله باندی صرف یوځل تیمم کول درست دی اوپه دی باندی څو څو ځله تیمم نه سی کیدی، ځکه چی په دی باندی نجاست حکمی پریوزی، نوداخبره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دخاوری په دغه ګوله باندی څوځو ځله تیمم کول درست دی اوپه هغې باندی دحکمی نجاست اثرنه کیږی اوکم کس چی داسی وایی هغه غلط وایی په درمختارکی تصریح ده چی پریو ځای باندی څوځو ځله تیمم کول صحیح دی. ([2])

پر چونه سوی دیوال باندی تیمم درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۰۷) دجومات دیوالونه کم چی په چونه باندی سپین سوی وی پرهغو باندی تیمم درست دی اوکه نه؟

جواب: درست دی ([3]). فقط

کله چی دجنب سره اوبه صرف په قدرداودس دی نوځه وکړی؟ اودجنابت تیمم مخکی وکړی

([1]) په جواب کي ښځه جنبه فرض کړل سویده کني یوازی دماشوم په ګندګیو اومتیازو سره لمبیدل نه واجبیږي، پرکمه برخه چي نجاست لګیدلي دي دهغې مینځل یا جامه بدلول کافي دي، فقهاؤ دهلاکت او ناروغی او یا داوبو پراستعمال باندي دمرض دبیري له وجي څخه جنب ته دتیمم اجازه ورکړیده: من عجز عن استعمال الماء الخ لبعده میلا الخ او برد یهلك الجنب او یمرضه ولو فی المصر إذا لم تکن اجرة حمام ولا ما یدفئه الخ (درمختار) ای من ثوب یلبسه او مکان یاویه قال فی البحر فصار الأصل أنه متی قدر علی الإغتسال بوجه من الوجوه لا یباح له التیمم إجماعا (ردالمحتار باب التیمم ص۲۱۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۳۲ – ۲۳۴). ظفیر

([2]) وأما إذا تیمم جماعة من مد واحد فیجوز کما سیأتي فی الفروع لأنه لم یصر مستعلا إذا التیمم إنما یتأدی بما إلتزق بیده لا بما فضل کالماء الفاضل فی الاناء بعد وضوء الأول وإذا کان علی حجر او ملس فیجوز بالأولی نهر (رد المحتار باب التیمم تحت قوله بمطهر ج۱ ص۲۲۰، ط.س. ج۱ ص۲۳۹). ظفیر

([3]) یجوز التیمم عند ابي حنیفة ومحمد رحمهما الله بکل ماکان من جنس الأرض کالتراب والرمل والحجر والجص والنورة والکحل والزرنیخ (هدایه ج۱ ص۵۳). ظفیر

اوکه نه؟ سوال: (۳۰۸) دجنب سره صرف دومره اوبه دی چې په هغه سره صرف اودس کولی سی اودغسل لائقی اوبه ورسره نه سته دی نوپه دی صورت کی که چیري دغسل دپاره دتیمم او دلمونځ دپاره داودس حکم وی نو اودس مخکی وکړی اوکه تیمم؟

جواب: خوښه یې ده که مخکی تیمم کوی اوکه مخکی اودس کوی اوبیا دجنابت دپاره تیمم کوی په دواړه طریقو سره جائز دی.

دجنب سره چې اوبه لږی وی نو مخکی نجاست پریمنځی اوکه نه اودس وکړی؟ کله چې په دی کی صرف یوکار کولی سی؟ سوال: (۳۰۹) دجنب سره په قدر داودس اوبه دی اوبدن یې هم نجس دی نوکه چیري بدن ومینځی نو داودس دپاره اوبه نه پاته کیږی نوهغه لره څه کول په کاردی؟

جواب: پلیت سوی بدن دي ومینځی اودغسل او داوداسه دپاره دي تیمم وکړی. (۱) فقط

کم مریض چې اودس کولی سی خو غسل نه سی کولی نوهغه څه وکړی؟ سوال: (۳۱۰) کم مریض چې اودس کولی سی خو دغسل څخه معذوره وی نو دهغه دپاره څه حکم دی؟

جواب: داجائز دی یعنی اودس دي وکړی او دغسل پرځای دي تیمم وکړی (۲).

څوک چې داودس او دغسل دواړو څخه معذوره وی نوهغه دجنابت په حالت کی څه وکړی؟

سوال: (۳۱۱) کم څوك چې داوداسه اودغسل کولو څخه معذوره وی نوهغه به دجنابت په حالت کی څه وکړی؟

جواب: دغسل په نیت یوتیمم ورلره کافی دی (۳). فقط

کمی ښځی ته چې په لمبلو سره دبیماریدلو غالب ګمان وی نوهغه خاوند دجماع څخه بندولی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۱۲) دزید سره صرف یوه بی بی ده چې اکثره ناجوړه وی اوکله چې هغه غسل وکړی نودکمزورتیا په وجه کله هغی ته زکام ولګیږی اوکله په غوږ اوسر کی دردوی نوددی وجه څخه هغه دخپل خاوند خواهش دهمبستری ردوی چې دهغه په وجه سره زیدته دګناه دارتکاب بیره ده نوپه داسی صورت کی دزید بی بی په تیمم سره لمونځ ادا کولی سی اوکه نه؟ که چیري نه یې سی ادا کولی نو دغسل په اړه بل څه

---

(۱) مسافر محدث نجس الثوب معه ماء یکفی لأحدهما یغسل به النجاسة ویتیمم للحدث (عالمګیري باب التیمم الفصل الثاني ج۱ ص۲۸، ط. ماجدیة ج۱ ص۲۹). ظفیر

(۲) یجوز التیمم إذا خاف الجنب إذا إغتسل بالماء أن یقتله البرد او یمرضه الخ (عالمګیري باب التیمم ص۲۲ ج۱، ط. ماجدیة ج۱ ص۲۸). ظفیر

(۳) ومن عجز عن استعماله الماء المطلق الکافی لطهارته الخ تیمم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ص۲۱۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۳۲). ظفیر

صورت دزید بی بی اختیارولی سی او دزید دهمبستری څخه انکار کول په دی حالت کی درست دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ولو ضرها غسل رأسها ترکته وقیل تمسحه ولا تمنع نفسها عن زوجها الخ (۱) یعنی که چیري ښځی ته دسر پرېمینځل ضرر رسوی نوسر دي نه پرېمینځی اوعند البعض هغه دي دسر مسح وکړی اوهمدا احوطه ده، اوپه بله موقعه په درمختار کی یې داواجب لیکلی دی یعنی که چیري پرسر مسح کولای سی اوپه دي کی بیره دمرض نه وی نوسر دي مسح کړی کنې پټۍ دي پرسر باندی وتړی اوپر هغه دي مسح وکړی، درمختار (۲) خو هغه ښځه دي خپل خاوند دجماع کولو څخه نه منع کوي، (۳) په درمختار کی یې داهم نقل کړی دی چی: من به وجع رأس لا یستطیع معه مسحه الخ ففی الفیض عن غریب الروایة تیمم الخ (۴) یعني دچاپه سرکي چي داسي درد وي چي مسح هم نه سي کولای نو هغه دي تیمم وکړي، اوهمدا ډول په (درمختار) کي دي: او لمرض یشتد اویمتد بغلبة الظن الخ قال فی الشامی وکذا لو کان صحیحًا خاف حدوث مرض الخ (۵) دشامي په دی اخری عبارت کی دا تصریح ده چی جوړ شخص ته که چیري په غسل کولو سره دنوي مرض دپیښېدو بیره وی په غالب گمان سره نو بیاهم تیمّم جواز ورته لري، لهذا په دی صورت کی دي هغه ښځه تیمم وکړی اوخاوند دي دجماع څخه نه بندوی، تیمم کول هغی ته تر زواله پوري دعوارضو مذکوره دلحوق دبیری درست دی بیا کله چی هغه خوف پاته نه سی نوغسل دي وکړی. فقط

اوبه چې موجودې وي نوتیمم درست نه دی: **سوال**: (۳۱۳) دقرآن پاك دلوستلو دپاره تیمم کول باوجود داوبو جائز دی اوکه نه؟

جواب: داوبو دموجودوالی باوجود په تیمم سره مسحه کول دمصحف جائز نه دی په الدر

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۴۲، ط.س. ج۱ ص۱۵۳، قوله ولا تمنع نفسها عن زوجها ای خوفا من وجوب الغسل علیها إذا وطئها لأنه حقه ولها مندوحة عن غسل رأسها (رد المحتار ابحاث الغسل ص۱۴۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۳). ظفیر

(۲) من به وجع رأس لایستطیع معه مسحه الخ یسقط فرضه ولو علی جبیرة فی مسحها قولان وکذا یسقط غسله فیمسحه ولو علی جبیرة إن لم یضره والا سقط اصلا (درمختار) ولو علی جبیرة ویجب شدها إن لم تکن مشدودة ای إن أمکنه (ردالمحتار باب التیمم قبیل باب المسح علی الخفین ج۱ ص۲۳۹ – ۲۴۰، ط.س. ج۱ ص۲۷۰). ظفیر

(۳) قوله ولا تمنع نفسها عن زوجها أی خوفا من وجوب الغسل علیها إذا وطئها لأنه حقه ولها مندوحة عن غسل رأسها (ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۴۳، ط.س. ج۱ ص۲۷۰). ظفیر

(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۳۹، ط.س. ج۱ ص۲۲۰. ظفیر

(۵) ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۱۵، ط.س. ج۱ ص۲۳۳. ظفیر

المختار کی دی: کتیمم لمس مصحف فلا یجوز لواجد الماء الخ. ([1]) فقط

په ځنګل کی چي حیوانانو ته خطر وي نوتیمم کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۱۴) یو ځوك په ځنګل کی حیوانان څروی نو دلمانځه وخت راغی اوبه دیو میل څخه نږدی دی خو اندیښنه ده چی که چیري داودس دپاره ولاړ سی نو حیوانان به یې دبل په کښت کي ګډ سي یا به ورك سي، نوپه دې صورت کی دتیمم سره لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی تیمم کول درست دی، درمختار. ([2]) فقط

فالج وهلی به مجبوراً تیمم کوي اوکه نه؟ سوال: (۳۱۵) که چیري دفالج مریض چي بغیر دکومك څخه داودس کولو څخه مجبور وی او دګرمو اوبو څخه بغیر اودس نه سی کولی اوپه وجه دعدم موجودګی دمرستیال اودګرمو اوبو دنیستوالی په وجه چی دماخستن لمونځ په تیمم سره وکړی نو جائز دی اوکه نه؟ که چیري داودس کولو څخه وروسته جرابی واغوندی اوپر هغو باندی سربیره دځرمنی موزی واغوندی نوبیا ددغه ځرمنی پرموزو باندی تیمم درست دی اوکه نه؟

جواب: دغه کس تیمم کولی سی او داودس کولو څخه وروسته که چیري دځرمنی موزی واغوندی نو یو شواروز یعنی مقیم دپنځو لمونځونو په اودس کی پردغو موزو باندی مسحه کولی سی اوکه چیري موزی یی اغوستی وی اودتیمم ضرورت سو مثلاً ده لره ځوك اودس کوونکی موجود نه ؤ، یا ګرمی اوبه موجودي نه وی چی دهغو په وجه تیمم درست دی نو دموزو په اغوستولو سره تیمم کولی سی دتیمم دپاره دموزو ایستلو ضرورت نه سته، په درمختار کی دی په هغه عذرونو کی په کوموکی چی تیمم جائز دی هلته یې دا هم لیکلی دی: او لم یجد من یوضیه فان وجد ولو یأجر مثل وله ذلك لا یتیمم الخ. ([3]) فقط

الباب الخامس فی المسح عَلی الخفین وغیرهما

پر موزو او نورو شیانو باندی دمسح کولو احکام

دکپړی پرمروجه جرابو باندی مسحه کول جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۳۱۶) محض دکپړی پرمروجه جرابو باندی مسحه کول جائز دی اوکه نه؟ ما دیو مولوی صاحب څخه پوښتنه

([1]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۲۲، ط.س. ج۱ ص۲۴۵. ظفیر

([2]) او خوف عدو کحیة او نار علی نفسه ولو من فاسق او حبس غریم او ماله ولو امانة الخ تیمم جاز (درمختار) قوله او ماله عطف علی نفسه الخ ولم ار من قدر المال بمقدار وسنذکر عن التتارخانیة ما یفید تقدیره بدرهم کما یجوز له قطع الصلوة (ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۱۲ – ۲۱۷، ط.س. ج۱ ص۲۳۴). ظفیر

([3]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التیمم ج۱ ص۲۱۵، ط.س. ج۱ ص۲۳۳. ظفیر

کړی وه دهغه په جواب کی هغوی وفرمایل چی درسول الله ﷺ څخه دټوکر پرجرابو باندی مسحه کول ثابت دی هیڅ قید دنری والی او دډبلوالی نسته؟ بینوا وتوجروا !

جواب: پرجرابو باندی مسحه کول درست نه دی ځکه چی پرجرابو باندی دمسحی کولو څلور شرطونه دی دری شرطونه خو هغه دی چی دموزو په مسحه کی هم مشروط دی، یوشرط دجرابو په مسحه کی زیات دی: قال في الدر المختار وشرط مسحه ثلاثة امور الاول كونه سائر القدم مع الكعب والثاني كونه مشغولا بالرجل والثالث كونه مما يمكن متابعة المشي المعتاد فيه فرسخاً فاكثر الخ الى ان قال او جوربيه الثخينين بحيث يمشى فرسخاً ويثبت على الساق بنفسه ولا يرى ما تحته ولا يشف الخ (۱) الدر المختار على هامش الشامى جلد اول ص۱۷۹، نوکه چیري داڅلور واړه شرطونه په جرابوکی پوره سی نوهله به مسحه درسته وی یعنی چی هغه دپښو تر بجلکو پوري پټونکی وی، دویم داچی په هغو کی دګرځیدلو عادت هم وی دریم داچی قدم مشغول وی یعنی قدم پټ کړی او دهغه څه حصه دباندي باقی پاته نه سی، او څلورم داچی دومره سختی وی چی څه شی په هغی کی سرایت نه سی کولی، نوچونکه دغه ټول شرائط په دی مروجه جرابو کی مفقود دی، لهذا مسح پردوی باندی جائز نه ده: كما قال الشامى وانهم اخرجوه لعدم تاتى الشروط فيه غالبًا الخ، (۲) او دمولوی صاحب دا فرمایل چی دجناب رسول ﷺ څخه پرجرابو باندی مسحه ثابته ده هیڅ اصل نه لری افتراء ده اوپه لغت نه پوهیدل دی، په حدیث پاك كی خودی چی: انه ﷺ مسح على خفيه، الحديث ملخصًا (۳) په بل حدیث پاك كي دی: ان النبى ﷺ مسح على الجوربين (۴) مقصد داچی پرجرابو اوپر موزو باندی مسحه ثابته ده دموزو او دجرابو څخه هغه موزی مراد دی کمي چی پورتنیو شرطونو لره جامع وی مطلق دتار او دکپړی جرابی مرادنه دی. فقط

رشید احمد عفی عنہ، الجواب صحیح بندہ عزیز الرحمٰن عفی عنہ

پرتاریزو موزو باندی مسحه جائزده اوکه نه؟ سوال: (۳۱۷) تاریزی موزی کمو چی نن سبا په دنیا کی رواج موندلی دی پر هغو باندی مسحه جائز ده اوکه نه ؟

جواب: پر وړینو او تاریزو جرابو باندی مسحه کول درست نه دی، خو کله چی هغه داسی

---

(۱) الدر المختار على هامش رد المحتار باب المسح على الخفين ج۱ ص۲۴۸، ط.س. ج۱ ص۲۲۱. ظفير

(۲) رد المحتار باب المسح على الخفين ص۲۴۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۶۹. ظفير

(۳) جمع الفوآئد المسح على الخفين ج۱ ص۴۲. ظفير

(۴) جمع الفوائد المسح على الخفين ج۱ ص۴۲، الفاظ يې دادي: توضأ رسول الله صلّى الله عليه وسلّم ومسح على الجوربين للترمذى وأبوداؤد الخ (ايضا). ظفير

پنډی اوډبلی وی چی دیو فرسخ په اندازه مزل (چی دری میله دی) چی هغه یې په پښو کړی وی اوبغیر دڅپلیو څخه پکښی تللی سی اوپر پونډیو باندی قائمی وی، لکه څنګه چی په درمختار کی دی: ولو من غزل اوشعر الثخینین بحیث یستمسك علی الساق بنفسه ولا یُری ما تحته ولا یشف الخ (۱) اوپه شامی کی یی داهم لیکلی دی چی چونکه په تاریزو جرابوکی داشرائط نه پیدا کیږی نوپه دی وجه باندی پرهغو دمسح کولو دعدم جواز فتوی ورکړل کیږی (۲) نو بناءًا علیه دخرمنی دموزی څخه بغیر پربله موزه باندی مسحه نه دی کول په کار. فقط

پرانګریزی بوټونو مسحه جائزده اوکه نه؟ سوال: (۳۱۸) پرداسی بوټونو باندی چی په بند باندی تړل کیږي دکمو په خلاصولو اوپه ایستلو کی چي دوخت دتنګوالی له امله اندیښنه وی اوهغه بوټ دومره لوړ وی چی بجلکی پکښی بالکل پټی وی، لکه څنګه چی انګریزی بوټونه اوږده وی نومسحه جائزده اوکه نه؟

جواب: که چیري دغه انګریزی بوټونو تربجلکو لوړ ځای پټ کړی وی او کمه تسمه چی پربوټونو سربیره ده هغه ښه راکش سوی وی چی دواړه طرفونه یی یوبل ته ښه رسیدلی وی اوسره ورغلی وی او بوټونه پاك وی نوپه هغو باندی مسحه درسته ده په دی شرط چی په طهارت سره یی اغوستی او په پښو کړی وی، لکه څنګه چی دشامی دلاندینی عبارت څخه معلومیږی: ویجوز علی الجاروق المشقوق علی ظهور القدم وله ازرار علیه تشده لانه کغیر المشقوق الخ (۳). فقط

دمسح شرائط او قواعد څه دی؟ سوال: (۳۱۹) دمسح کولو څه تعریفونه دی اودکومو کومو شرائطو شتون ضروری دی، مثلاً داچی په ورځ کی بالفرض یوځل یا دوه ځلی دڅپلیو اوبوټونو ایستلو ضرورت راځی اوبیا په پښو سی، دهغه څخه وروسته مسحه کول په کاردی اوکه نه بیا یې پریمینځل په کاردی؟

جواب: دمسح دجواز دپاره داضروری ده چی په اوداسه سره واغوستل سی (۴) دایستلو په صورت کی که چیري لمونځ کول غواړی نو صرف پښې پریمنځل کافی دی، که چیري

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المسح علی الخفین ج۱ ص۲۴۸، ط.س. ج۱ ص۲۲۹. ظفیر

(۲) وقال خرج عنه ماکان عن کرباس بالکسر وهو الثوب من القطن الأبیض الخ وإنهم اخرجوه لعدم تاتی الشروط فیه غالبا الخ (رد المحتار باب المسح علی الخفین ج۱ ص۲۴۸، ط.س. ج۱ ص۲۲۹). ظفیر

(۳) ردالمحتار باب المسح علی الخفین ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۲۲. ظفیر

(۴) یجوز من کل حدث موجب للوضوء إذا لبسهما علی طهارة کاملة ثم احدث (هدایه باب المسح علی الخفین ج۱ ص۵۷). ظفیر

اودس مات سوی نه وی ([1]). فقط

پرجرابو باندی مسحه جائزده اوکه نه؟ سوال: (۳۲۰) پرجرابو باندی مسحه جائزده اوکه نه؟ که چیري جائز وی نوپه کومو وجوهو سره؟ اوکه چیري جائز نه وی نو ولی؟ او دحضور پاك ﷺ په وخت کی جرابی وی اوکه نه؟ که چیري نه وی نو پر موزو باندی چی په کومو اصولو مسحه جائزده په هماغه اصولو سره پرجرابو هم جائزده اوکه نه؟ اوپر کم قسم جرابو باندی مسحه جائز ده؟

جواب: حضور ﷺ دځرمنی پرموزو باندی مسحه فرمایلی ده نوکه چیري جرابی تارینی یا وړینی وی نوپر هغو باندی دمسح کولو دپاره شرط دادی چی هغه به داسی پنډی وی چي پرپونډیو باندی دنیلیو دتړلو څخه بغیر ثابتی اوقائمی پاته سی اویوازی په دغه جرابوکی دری میله سفر کیدی سی ([2]) اوهغه جرابی مجلدي اومنعلی وی، منعلی هغه جرابو ته وایی چی لاندی یی څرمن لګول سوی وی اومجلدی هغه جرابوته وایی چی پرهغو ټولو باندی څرمن پیچل سوی وی په درمختار کی دی: علی ظاهر خفیه او جرموقیه الخ او جوربیه ولو من غزل او شعر الثخینین بحیث یمشی فرسخًا ویثبت علی الساق بنفسه ولا یری ما تحته ولا یشف الخ والمنعلین والمجلدین الخ ([3]) ددی عبارت حاصل هماغه دی کم چی لوړ لیکل سوی دی.

پرکمو تاریزو موزو باندی چی څرمن دڅپلی په شان اچول سوی وی پرهغو مسحه جائزده اوکه نه؟ سوال: (۳۲۱) پرتاریزو جرابو باندی که چیري څرمنه په داسی طریقه سره راتاو کړل سی چی کمه حصه په څپلی کی پټه وی صرف پرهغی باندی یی څرمنه راتاو کړی وی نو داحنافو په نزد پرهغی باندی مسحه درست ده اوکه نه؟

جواب: پرتاریزو جرابو باندی که چیري یوازي په لاندی برخه څرمنه کار کړل سوی وی لکه څنګه چی په سوال کی ددی تفصیل لیکل سوی دی نوپر هغو باندی داحنافو په نزد مسحه درسته ده، په درمختار کی یی پر جوربین منعلین باندی مسحه کول صحیح لیکلی ده منعلین هم دجرابو هغه قسم دی چی دهغو پرلاندی حصه کمه چی په څپلی کی

([1]) وینقض المسح کل شيء ینقض الوضوء الخ وینقضه ایضا نزع خفیه وکذا نزع احده الخ. وکذا مضي المدة وإذا تمت المدة نزع خفیه وغسل رجلیه وصلی ولیس علیه إعادة بقیة الوضوء وکذا إذا نزع قبل المدة (هدایه باب المسح علی الخفین ج۱ ص۵۹ - ۲۰). ظفیر

([2]) رواه الترمذي عن المغیرة بن شعبة قال توضا النبی ﷺ ومسح علی الجوربین وقال حدیث حسن صحیح ورواه ابن حبان فی صحیحه ایضا (البحر الرائق باب المسح علی الخفین ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۱۸۳). ظ

([3]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المسح علی الخفین ص۲۴۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۲۷ - ۲۲۸. ظ

پټه وی پر هغو باندی څرمنه وی (۱). فقط

پرجرابو باندی مسحه جائزده اوکه نه؟ اوپه داسي چا پسي لمونځ جائز دي اوکه نه؟ سوال:

(۳۲۲\۱) په تاریزو یا په وړینو جرابو باندی مسح جائزده اوکه نه؟ اوکه چیري جائز نه وی نو په هغه پسی لمونځ جائز دی اوکه نه راګرځول یی په کاردی؟

سوال: (۳۲۳\۲) یوصاحب فرمایی چی په قدوری کی دامام اعظم رحمه الله فتوٰی دمسح پرجواز باندی ده، احناف علماء که داسی نه کوی نودا دهغوی قصور دی؟

سوال: (۳۲۴\۳) سوال کوونکی دهم هغه صاحب څخه سوال وکی چی داحنافو دعلماؤ فتوی هم پرجواز باندی ده هغوی جواب ورکړی چی دامام ابوحنیفه رحمه الله فتوٰی خوسته دچامسخره فتوی به نه وی، نو دداسی چاپه باره کی څه حکم دی؟

سوال: (۳۲۵\۴) آیاپه قدوری کی دجواز فتوٰی دامام اعظم رحمه الله موجوده ده؟

جواب: ۱: پرمعمولی تاریزی او وړینی جرابی باندي په کم کی چی شرائط دمسح موجود نه وی مسحه کول درست نه دی، نوپه هغه پسی لمونځ صحیح نه سو، اودغه لمونځ راګرځول په کاردی ځکه چی هغه باوجود دنه موجودوالی دشرط دجواز پرجرابو باندی مسحه کړی ده (۲). فقط

۲: دامام صاحب رحمه الله مذهب دادی چی پرجرابو باندی که چیري څرمنه پیچل سوی وی نومسحه پرهغی باندی جائزده، کنې نه ده، اوصاحبین (رح) دافرمایی چی که چیري جرابی داسی ډبلی اوپنډی وی چی هغه په خپله پرپونډی باندی بندیدلی سي او اوبه په هغو کی نه سي ننوتلی اوتر دری میلو پوری چی تنها هغه په پښو کړی نو پکښی تللی سی او هغه څیري نه سی نوبیا هغه وخت پرجرابو باندی مسحه درسته ده کنې نه ده. کذا فی الدرمختار. (۳) فقط

(۱) وصح (المسح) علی الجرموق والجراب الجلد والمنعل والثخینین ای یجوز المسح علی الجراب إذا کان مجلدا او منعلا وثخینا، یقال جورب مجلد إذا وضع الجلد علی أعلاه واسفله وجورب منعل والمنعل الذي وضع علی اسفله جلدة کالنعل للقدم (البحر الرائق باب المسح علی الخفین ص۱۹۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفیر

(۲) او جوربیه ولو من غزل او شعر الثخینین بحیث یمشي فرسخا ویثبت علی الساق بنفسه ولا یری ما تحته ولا یشف (درمختار) حیث علل عدم جواز المسح علی الجورب من کرباس بانه لایمکن تتابع المشی علیه (رد المحتار باب المسح علی الخفین جلد اول ص۲۴۸) ثم المسح علی الجورب إذا کان منعلا جائز اتفاقا وإذا لم یکن منعلا وکان رقیقا غیر جائز اتفاقا (البحرالرائق باب المسح علی الخفین ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفیر

(۳) وأما الثخین فهو قولهما وعنه أنه رجع إلیه وعلیه الفتوی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المسح علی الخفین ج۱ ص۲۴۹، ط.س. ج۱ ص۲۷۰). ظفیر

۳: داسی ویوونکی عاصی اوفاسق دی او دفقهی دکتابونو څخه جاهل او ناخبره دی ځکه چی که چیري خبروای نوداسی به یی نه ویلی په درمختار کی دی: او جوربیه الثخينين بحيث يمشى فرسخًا ويثبت على الساق بنفسه ولا يرى ما تحته ولا يشف الخ (۱). ددی عبارت څخه پرجرابو باندی دمسح دجواز دشرائطو درك معلومیږي، اودا هم واضحه ده چي دنن وخت په مروجه تاريزو يا وړينو جرابو كي دا شرائط شتون نه لري: ثم قال او المنعلين والمجلدين وفى الشامى ما ذكره المصنف من جوازه على المجلدين والمنعل متفق عليه عندنا واما الثخينين فهو قولهما وعنه انه رجع اليه وعليه الفتوى (۲).

۴: پرجرابو باندی دمسح کولو دجواز هغه شرطونه دی کم چی مخکی ذکر سوه مطلقًا پرجرابو باندی مسحه کول په حواله دقدوری غلط دی. (۳) فقط

دمنعل اومجلد تشریح: **سوال**: (۳۲۲) په الرشید دذی القعدی دمیاشتی سنه **۱۳۳۵** هـ کی په یوه فتوی کي چي دمسح په اړوند ده دجورب منعل يامجلد الفاظ استعمال سوی دی حقیر جورب هغه ګڼی کمي ته چی په عام عرف کی جورابی وایی البته ددی صفت منعل یامجلد په معنٰی کي یی شك واقع کیږی دحقیر په علم اومعلوماتو کی دمسحی په مسئله کی داتفصیل دی چی پرموزی سربیره یا ترهغه لاندی که چیري جورابه وی نوپر هغی باندی مسح جائزده، دمجلد او منعل الفاظو مطلب راته معلوم نه دی، ددی وجه التماس دی چی ددی دتفصیل اوتشریح څخه می خبر کړئ !

جواب: منعل جورب هغه ده چی ترجورابو لاندی څرمن لګیدلی وی په درمختار کی دی: والمنعلين بسكون النون ما جعل على اسفله جلدة الخ (۴) اومجلد جورابه هغه ده چی په ټوله جرابه باندی څرمن را پيچل سوی (۵) وی حاصل داچی پرجورابو باندی همداسی دڅرمن څخه بغیر مسحه درسته نه ده (۶) لیکن که چیري جورابه منعله یامجلده وی پر هغه باندی صحیح ده لکه څنګه چی پرخفینو یعنی دڅرمنی پرموزو باندی درسته ده، نو

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المسح على الخفين جلد اول ص۲۴۸، ط.س. ج۱ ص۲۰۲. ظفير
(۲) ردالمحتار باب المسح على الخفين ج۱ ص۲۴۹، ط.س. ج۱ ص۱۸۲. ظفير
(۳) وإذا لم يكن منعلا وكان رقيقا غير جائز اتفاقا (البحر الرائق باب المسح على الخفين ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۸۲). ظفير
(۴) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المسح على الخفين ج۱ ص۲۴۹، ط.س. ج۱ ص۲۷۰. ظفير
(۵) قوله والمجلدين المجلد ماجعل الجلد على أعلاه وأسفله (ردالمحتار باب المسح على الخفين جلد اول ص۲۴۹، ط.س. ج۱ ص۲۷۰). ظفير
(۶) وإذا لم يكن منعلا وكان رقيقا غير جائز اتفاقا (البحر الرائق باب المسح على الخفين ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۲)، ظفير

همدا مسئله په الرشید کی لیکل سویده. فقط

چې بی اودسه موزه په پښو کړی نومسحه درسته نه ده: سوال: (۳۲۷) موږ داوداسه څخه بغیر موزې په پښو کړی او پر موزو می مسحه وکړه نوزما لمونځ به جائز وی اوکه نه؟ ددې مسئلی په بیان کی دفقهی په کتابونو کی دطهارت لفظ راغلی دی یا داچی په مسحه کی دیوی ورځی یا ددرو ورځو قید راغلی دی، هغه پر اودس باندې دلالت کوي، موږ وایو چې دطهارت څخه دبدن پاکوالی مراد دی او دپښو دنجاست څخه صفا والی، نو آیا دا معلومات څنګه دي؟

جواب: بغیر داودس څخه یعنی بغیر دپښوو پریمنځلو څخه په موزی اغوستلو سره مسحه پرهغی باندی درسته نه ده، په طهارت باندی دموزه اغوستلو څخه مراد اودس دی، دا مسئله بالاتفاق مسلمه ده په دې کی دهیڅا اختلاف نه سته اوتاسو چی کم مطلب اخیستی دی هغه غلط دی [1] او دمقیم دپاره یوه ورځ اویوه شپه، اودمسافر دپاره تردرو ورځو او درو شپو پوری مسحه درست ده. [2] فقط

پرموزو باندې چې بوټ وی نو پرهغو باندی مسحه جائزده اوکه نه؟ سوال: (۳۲۸) زموږ خلګ موزې په پښو کوي، اوپر هغو سربیره بوټ یا پیزار چی بجلکی یې پټی کړی وی اغوندي نو پر هغو باندی مسحه جائزده اوکه نه؟

جواب: پرتاریزي جرابی سربیره که چیري موزی په اوداسه کی واغوستل سی نوپر هغو باندی مسحه درسته ده اوبوټ یا پیزار که چیري پرتاریزی جرابی باندی واغوستل سی اوبجلکی په پټی وی اوهغه بوټ دلاندی څخه پاك وی نوپر هغو باندی هم مسحه درست ده [3]. فقط

جرابی چې بغیر دتړلو څخه بندی وی او اوپر هغی نوری جرابی واغوستل سی نوپر هغو باندی مسحه درسته ده اوکه نه؟ سوال: (۳۲۹\۱) کمه جرابه چی بغیر دتړلو څخه پر پښه باندي ټینګه وی اوپر هغی باندی مسحه درسته وی که چیري پرهغی سربیره بله جرابه واغوندی برابره خبره ده که هغه کلکه نه وی خو په دغه ډول اغوستلو سره ټینګه وی نو پرپورتنۍ جرابه باندی مسحه کول درست دی اوکه نه؟

---

[1] ویجوز من حدث موجب للوضوء إذا لبسهما علی طهارة کاملة ثم أحدث الخ وقوله إذا لبسهما علی طهارة کاملة لا یفید إشتراط الکمال وقت اللبس بل وقت الحدث الخ (هدایه باب المسح علی الخفین ج۱ ص۵۷). ظ

[2] یجوز للمقیم یوما ولیلة واحدة والمسافر ثلثة أیام ولیالیها (هدایه باب المسح علی الخفین ص۵۸ ج۱). ظ

[3] المسح علی الخفین جائز بالسنة الخ إذا لبسهما علی طهارة کاملة ثم احدث (هدایه باب المسح علی الخفین ج۱ ص۵۷). ظفیر

یوڅو نرۍ جرابې چې یو پر بل سربیره واغوندې نومسحه جائزده اوکه نه؟ سوال: (۳۳۰\۲) دوې یا درې جرابې کمې چې زیاتې سختې او کلکې نه دي پرله پسې کت پرکت چې په اغوستلو سره بغیر دتړلو څخه بندې او مښتې وی او په مزل کولو سره هم بندې وی نوپر لوړه جرابه باندې مسحه کول درست دي اوکه نه؟

جواب: ۱: که چیرې هغه لوړه جرابه کلکه او دمسح قابله نه وی اونه داسې نرۍ وی چې سربیره په مسح کولوسره دننه موزې ته داوبو اثر رسیږي نو بیا پرهغې باندې مسحه درسته نه ده. (۱) فقط

۲: په دې صورت کې مسحه صحیح نه ده. (۲) فقط

پرموزو باندې دمسحې څه ثبوت دی؟ سوال: (۳۳۱) پرموزو باندې مسحه کول دقرآن پاك اوحدیث مبارك څخه ثابت دي اوکه نه؟

جواب: مسحه علی الخفین یعنی پرموزو باندې مسحه کول دحدیث پاك څخه ثابت دی په درمختار کې دی چې ددې ثبوت دحدیث مشهور څخه دی اودمسح علی الخفین دحدیث راویان داتیا(۸۰) صحابه کرامو څخه زیات دی چې په هغوی کې عشره مبشره هم دي. (۳) فقط

پرناپاکه بوټ باندې مسحه درسته نه ده: سوال: (۳۳۲\۱) که چیرې داودس کولو څخه وروسته لانګ نومې بوټ کم چې دبجلکو څخه ترلوړ پورې راځي واغوستل سي او دبل اوداسه په وخت کې پرهغه سربیره مسحه وکړل سي نومسحه صحیح ده اوکه نه؟ اودا دموزو کار شرعًا ورکولی سی اوکه نه؟ اولمونځ صحیح دی اوکه نه؟

سوال: (۳۳۳\۲) دبوټ هغه حصه کمه چې دځمکې سره لګیږي هغه پاکه نه سی پاته کیدی لیکن دتلی سربیره حصه پر کمه باندې چې دپښو تلی لګیږي هغه پاکه ده نوهغه چې یې اغوستې وی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: (۱ – ۲) کله چې دبوټ لاندینی حصه کمه چې پر ځمکه باندې لګیږي پاکه نه ده

---

(۱) ولایجوز المسح علی الجوربین عند ابی حنیفة رحمه الله إلا أن یکون مجلدین أو منعلین وقالا یجوز إذا کان ثخینین لما روی أن النبی صلی الله علیه وسلم مسح جوربیه ولأنه یمکنه المشی فیه إذا کان ثخینا وهو أن یستمسك علی الساق من غیر ان یربط بشيء فاشبه الخف (هدایه باب المسح علی الخفین ص۶۱ ج۱). ظفیر

(۲) واذا لم یکن منعلا وکان رقیقا غیر جائز اتفاقا (البحر الرائق باب المسح علي الخفین ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفیر

(۳) وهو (ای المسح علی الخفین) جائز الخ بسنة مشهورة فمنکره مبتدع وعلی راي الثاني کافر وفی التحفة ثبوته بالإجماع بالتواتر رواته اکثر من ثمانین منهم العشرة، قهستاني (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المسح علی الخفین ج۱ ص۲۴۵، ط.س. ج۱ ص۲۶۴ – ۲۶۵). ظفیر

نو پرهغه باندی مسحه جائز نه ده اوچی دغه بوټ یی اغوستی وی نولمونځ کول صحیح نه دی. (۱) فقط

دمنعل کیدو مطلب څه دی؟ سوال: (۳۳۴) پرجرابو باندی دمسح کولو دپاره دهغو دمنعل کیدلو څخه څه مراد دی آیا دځرمنی ټوټه په جرابه کی په دننه ایښودلو سره یا دباندي په تار وغیره سره تړلو سره به دا شرط پوره سی اوکه نه؟

جواب: دموزی دمنعل کیدلو دامطلب دی چی تردغه جرابی لاندی ځرمنه لګیدلی وی اوپر وروسته پونده باندی اوتر بجلکو پوری اومخ ته پر ګوتو باندی یعنی دقدم پرشا دموزی دفرضی مسحی په اندازه دځرمن پرلګولو باندي فقهاؤ تصریح کړیده. کذا فی الشامی (۲) اوهغه ځرمنه لاندی او پر ګوتو اوپر بجلکو باندی ګنډل سوی پکارده، ایښودل او په تار سره یې تړل کافی نه دی. فقط

پر فل بوټ باندی مسح صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۳۳۵) پرموزو باندی مسح کول مشروع بلکه داهل السنت والجماعت دخصائصو څخه دی او دحضور ﷺ موزی استعمالول لاریب فیه دی او دنعلینو مبارکو نوعیت اوهیئت هم په کتبِ سیر کی مفصل اومشرح دی اونقشه یی هم معلومه ده ترځومره پوری چی په پوهه کی راځی دموزو اغوستلو څخه وروسته دغه موزی پر هغو باندی سربیره په پښو کول دمنلو وړ خبره نه معلومیږي لیکن په بعضو کتابونو کی لکه شرح سفر السعادة اومدارج النبوة او روضة الاحباب، اوپه نوروکی دا امر بالوضاحت نه ترلاسه کیږی لکه څنګه چی دخولۍ او دعمامی په باره کی تصریح ده اوفل بوټ کم چی تربجلکو پوری یاپه بعضو صورتونو کی دهغو څخه هم تر پورته پوری وی هغه هم دموزی په حکم کی داخل معلومیږی، اوکه چیري دا بوټونه پر تاریزو یا وړینو جرابو باندی یا بغیر دجرابو څخه واغوستل سی نوپر هغو باندی به مسح جائز وی اوکه نه؟

جواب: پرموزو باندی وروسته دمسحی څخه دجواز الصلوت دپاره داهم شرط دی چی طاهرین وی یعنی نجاست مانعه عن الصلوة پرهغوی باندی موجود نه وی نوکه چیري

---

(۱) الخف إذا أصابته النجاسة إن كانت متجسدة كالعذرة والروث والمنى يطهر بالحت إذا يبست وإن كانت رطبة الخ لايطهر إلا بالغسل (عالمگيري كشوري باب شروط الصلوة ج۱ ص۵۲، ط. ماجدية ج۱ ص۵۸). ظفير

(۲) والمنعلين ماجعل على أسفله جلدة والمجلدين (درمختار) قوله ماجعل على اسفله جلدة اى كالنعل للقدم وهذا ظاهر الرواية وفى رواية الحسن ما يكون إلى الكعب قوله والمجلدين المجلد ماجعل الجلد على اعلاه وأسفله الخ ويوخذ من هذا وما قبله أنه لوكان محل المسح وهو ظهر القدم مجلد مع اسفله أنه يجوز المسح عليه كما قدمناه (رد المحتار باب المسح على الخفين ج۱ ص۲۴۹، ط.س. ج۱ ص۲۷۰). ظفير

یوازي په موزو اغوستلو کی هم دا امر ملحوظ وی چی هغه نجسی نه وی نودا هیڅ ضروری نه ده چی هغه دي دپیزار سره په پښو کړل سی که چیري تنها یو چا موزه اغوستی وی اوهغه پاکه وی نومسح پرهغی باندی بلا ریب صحیحه ده اولمونځ صحیح دی باقی داچی حضور ﷺ به پرموزو باندی پیزار هم په پښو کوی اوکه نه؟ نو دبعضو روایاتو څخه معلومیږی چی پیزار به یی هم پرموزو باندی په پښو کوی، اوکمه نقشه چی دپیزار مبارکو مشهوره ده اوپر موزو باندی سربیره دهغو په پښه کول مشکل معلومیږی نوممکنه ده چی پر موزو باندی به یی بل قسم پیزار په پښو کوی په کم کی چی به هغه تسمه نه وه کمه چی په ګوته کی ده بلکه صرف دقدم په شاه باندی به یوه دڅرمنی حلقه وه او ددی څخه علاوه حضور ﷺ که چیري صرف موزه اغوسته نو هغوی ته به یې چونکه دپاکوالی حال معلوم ؤ، ددی وجه به هغوی پرهغی باندی مسح فرمایله، اوس هم که چیري داسی وی نو دمسحی څخه کم امر مانع دی؟ او واضحه دي وی چی په موزوکی داهم شرط دی چی ساتر دقدمین مع الکعبین دي وی نوکه چیري یوقسم بوټ داسی هم وی چی هغه دبجلکو څخه تر لوړه پوری وی اوقدمین مع الکعبین پوره په هغو کی پټ سی نو مسح پرهغوی باندی صحیح ده اوکه چیري هغه پاك وی نو دهغو سره لمونځ صحیح دی (۱). فقط

<u>یوازی دزخم پرځای مسح کول په کاردی اوکه نه پرپوره اندام باندی؟</u> سوال: (۳۳۶) که چیري پرپوره یوه اندام یا دهغه څخه پرکم اوزیات باندی مثلاً پرپښه باندی زخم وی نو پرټوله پښه باندی مسح کول په کاردی اوکه نه محض پرهغه ځای باندی چیري چی زخم دی؟ که چیري پرټوله پښه باندی یی مسحه وکړه نولمونځ به یی صحیح وی اوکه نه؟ یو څوك وایی چی په څومره ځای کی زخم دی پرهم هغه دي مسح وکړل سی، اودپاته اندام پریمنځل په کاردی، په مسح علی العصابه (پټی) کی دي محض پرعصابه باندی مسح وکړل سی او دباقی حصی پریمنځل په کاردی؟

جواب: په دی ټولو صورتونوکی مسح یوازی پرهم هغه ځای کول پکاردی چی په کم ځای کی زخم دی او دجوړ ځای پرېمینځل په کاردی لیکن که چیري دروغ ځای په پریمینځلو سره زخم ته اوبه رسیدې اوهغه ته یی ضرر رسوی نوپر ټول باندی مسح کول پکار دی، نو ددغه شخص وینا صحیحه ده کم چی وایی چی صرف پرهماغه ځای باندی مسح کول

---

(۱) شرط مسحه ثلاثة أمور الأول كونه ساترا محل فرض الغسل القدم مع الكعب الخ والثاني كونه مشغولا بالرجل ليمنع سراية الحدث الخ والثالث كونه مما يمكن متابعة المشي المعتاد فيه فرسخا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المسح على الخفين ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۶۱). ظفير

په کار دی کوم ځای چی تپ یازخم وی او دباقی حصی پریمنځل په کاردی، نوکه پرټول (اندام) باندی یی مسح وکړه بغیر دهغه بیری څخه چی پورته ولیکل سوه نولمونځ به نه کیږی اوپه مسح علی العصابه باندی بیشکه صرف پرپټی باندی مسح کول په کاردی، اوپاته روغ اندام پریمنځل په کاردی لیکن دومره مقدار تخفیف په دي کی سوی دی چی دپټی په مینځ کی که چیري څه ځای خلاص وی نوپر هغه باندی مسح کول صحیح دی او ترپټی لاندی چی کم صحیح اوسالمه حصه داندام راغلی ده پرهغی باندی هم مسح صحیح ده اوباقی اندام پریمینځل په کاردی په درمختار کی دی: ویمسح نحو مفتصد وجریح علی کل عصابة مع فرجتها فی الاصح الخ. (۱) فقط

الباب السادس فی الحیض والنفاس وغیرهما

اول فصل : دحیض مسائل

دحیض په حالت کی په جماع کولو سره کفاره لازمه ده اوکه نه؟ سوال: (۳۳۷) که چیري یوځوك دحیض په حالت کی دخپلی ښځی سره جماع وکړی نوپر هغه باندی کفاره لازمه ده اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی دحیض په حالت کی دخپلی ښځی سره جماع کول حرام اوګناه کبیره ده پرهغه باندی توبه ایستل لازم دی اویو دینار یا نیم دینار صدقه کول مستحب دی (۲) اویو دینار دځلور نیمو ماشو سروزرو څخه وی. فقط

په حیض کی چی اختلال رامینځ ته سی نوحیض څو ورځی شمارل کیږی؟ سوال: (۳۳۸) دیوی ښځی همیشه پنځه ورځی حیض راځی، دځو میاشتو څخه خلل پکښی راغلی دی، کله یو ځاځکی ظاهریږی بیا څلور ورځی بندوی بیاپه پنځمه ورځ بیا څه ښکاره سی اوبیا بند سی اویا برابر روان وی، اویا اوه یا اته ورځی وروسته وینه جاري وی بیا پنځه ورځی وروسته بیا متواتره وینه روانه وی، نو په دی صورت کی به حیض څو ورځی شمارل کیږی؟

جواب: که چیري دلسو ورځو څخه ترزیاتو ورځو پوری دغسی حالت دوام وکی نو ددې به دخپل قدیم عادت موافق پنځه ورځی حیض وی اوباقی نوری ورځی به یی استحاض وګڼل سی (۳). فقط

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المسح علی الخفین ج۱ ص۲۵۸، ط.س. ج۱ ص۲۸۰. ظفیر

(۲) ثم هو کبیرة لو عامداً مختارا عالماً بالحرمة لاجاهلا او مکرها او ناسیا فتلزمه التوبة ویندب تصدقه بدینار او نصفه ومصرفه کزکوة وهل علی المرأة تصدق قال فی الضیاء الظاهر لا (درمختار باب الحیض) قوله ثم هو ای وطی الحائض (رد المحتار باب الحیض ص۲۷۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۹۷ – ۲۹۹). ظفیر　=

دلسو ورځو څخه زیات چې حیض راسي اوعادت یې هیر وي نوڅه به کوي؟ **سوال**: (۳۳۹) دکمی ښځې چې دلسو ورځو څخه زیاته وینه راسي اوپخوانی عادت ورنه هیر سوی وی نو اوس به حیض ترڅومره ورځو وی؟

جواب: لس ورځې به حیض شمار کړی اوباقی نوری ورځې به استحاض ([۱]) وی. فقط

دحیض څخه وروسته اودغسل کولو څخه مخکې په جماع کولو سره کفاره لازمیږي اوکه نه؟

سوال: (۳۴۰) ښځه چې کم وخت دحیض څخه فارغه سی نومخکی دغسل کولو څخه جماع جائزده اوکه نه؟ اوکه څوك دغسل کولو څخه مخکی جماع وکړی نوڅه کفاره وربانذی واجبیږی اوکه نه؟ او دحیض په حالت کی دیو ځای کیدلو کفاره څه ده؟

جواب: که چیري حیض په اکثره موده دحیض کی بند سوی وی یعنی په لسو ورځو کی بند سوی وی نودغسل څخه مخکی ورسره جماع کول صحیح دی اګر چی دغسل کولو څخه وروسته ښه خبره ده. په درمختار کی دی: ویحل وطؤها اذا انقطع حیضها لاکثره بلا غسل لا وجوبًا بل ندبًا الخ ([۲]). که دلسو ورځو څخه کمه وی مګر دعادت موافق په شپږو ورځو کی مثلاً قطع سوه نوجماع هغه وخت ورسره صحیح ده چی کله غسل وکړی، یا دومره وخت تیر سی چی غسل پکښې وکړی اوجامی واغوندی لمونځ شروع کړی یا دا وویل سی چی دحیض دقطع کیدو څخه وروسته دلمونځ وخت تیر سی اودا لمونځ دهغه پرذمه باندی لازم سی ([۳]) اوپه حالت دحیض کی که چیري جماع وکړل سی نو ددغه کفاره داده چی توبه دي وکړی، اومستحب داهم دی چی دیو دینار یا دنیم دینار په اندازه صدقه اوخیرات وکړی ([۴]) یودینار دڅلور نیمو ماسو سرو زرو برابر دی.

ښځه دحیض او دنفاس په حالت کی تسبیح ویلی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۴۱) ښځه چی دحیض اودنفاس په حالت کی اودس وکړی دلائل الخیرات، حزب الاعظم وغیره اردو

([۳]) فان لم یجاوز العشرة فالطهر والدم کلاهما حیض سواء کانت مبتدأة او معتادة وإن جاوز العشرة ففی المبتدأة حیضها عشرة أیام وفی المعتادة معروفتها فی الحیض حیض والطهر طهر (عالمگیري کشوري ص۴۵ ج۱، ط. ماجدیة ج۱ ص۳۷). ظفیر

([۱]) واکثره عشرة لعشر لیال والناقص والزائد الخ إستحاضة إلا عند نصب عادة الدم (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحیض ص۲۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۸۴). ظفیر

([۲]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحیض ج۱ ص۲۷۱، ط.س. ج۱ ص۲۹۴. ظفیر

([۳]) وإن لأقله الخ لایحل حتی تغتسل او تیمم بشرطه او یمضی علیها زمن یسع الغسل ولبس الثیاب الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحیض ج۱ ص۲۷۲، ط.س. ج۱ ص۲۹۴). ظفیر

([۴]) ویندب تصدقه بدینار او نصفه ومصرفه کزکوة وهل علی المرأة صدقة قال فی الضیاء الظاهر لا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الحیض ج۱ ص۲۷۵، ط.س. ج۱ ص۲۹۸). ظفیر

وظیفه، سبحان الله یا الحمدالله یا الله اکبر ویل ورلره جائز دی اوکه نه؟ او ددی خبری خیال ساتی چی که چیري په وظیفه کی کم قرآنی ایت کریمه راسی نو هغه نه لولی؟

جواب: ذکر سوی وظیفه، اوتسبیحات او تهلیل ویل جائز دی او قرآنی ایتونه هم ددعاء په نیت لوستل جائز دی، په درمختار کی دی: ولا بأس لحائض وجنب بقراءة ادعية ومسها وحملها وذكر الله تعالى وتسبيحه الخ (۱) وفي الشامي فلو قرأت الفاتحة على وجه الدعاء او شيئا من الآيات اللتي فيها معنى الدعاء ولم ترد القراءة لا بأس به (۲). فقط

دویم فصل : دنفاس مسائل

په نفاس کی چی خلل واقع سی نوښځه باید څه وکړی؟ سوال: (۳۴۲) په رمضان المبارك کی زما په کورکی مړ بچی پیدا سو چی غالبًا دپنځو یا دشپږو میاشتو ؤ، دماشوم ټول اندامونه مکمل سوی وه، اوس کیفیت دادی چی په دریمه او څلورمه ورځ په لږ مقدار کی ژړی اوبه یا خړ رنګی اوبه دنفاس پرځای خارجیږی، آیا ترکمه پوری چی دغه خړ رنګی یا ژړ رنګی اوبه روانی وی لمونځ او روژه به موقوف وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی شرعی حکم دادی چی که چیري دنفاس دورځی څخه مخکی یی څه عادت نه وی نو دڅلویښتو ورځو پوری به دنفاس حکم جاری وی په دي کی لمونځ او روژه هیڅ نه کیږی، البته کله چی دغه ژیړی اوخړی اوبه بالکل نه راتلی، یا یې دعادت ورځی پوره سوی په دی وخت کی به بیا غسل وکړی لمونځ اوروژه یی بیا کیږی (۳). فقط

په نفاس کی دعادت پوره کیدلو څخه وروسته به لمونځ کوی اوکه نه؟ سوال: (۳۴۳) دکمی ښځی چی داعادت دی چی ماشوم دپیدا کیدلو څخه وروسته په څلویښتو ورځوکی دننه په لس پنځلسو ورځو کی دننه یې دنفاس وینه بندیږی او دهغې همیشه دپاره همدا عادت دی، نو هغه دوینی دبندیدلو څخه وروسته لمونځ اوروژه نیولی سی اوکه نه؟ اودهغی خاوند دهغی سره یوځای کیدلی سی اوکه نه؟

جواب: که چیري دهغی عادت همدا وی نو دوینی بندیدلو څخه وروسته دي غسل وکړی پر هغی باندی لمونځ او روژه فرض کیږی او ددغی ښځی سره دخپل خاوند یوځای والی هم صحیح دی. (۴) فقط

---

(۱) الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الحيض ج۱ ص۲۷۱، ط.س. ج۱ ص۲۹۳. ظفیر

(۲) رد المحتار باب الحیض تحت قوله قرآءة قرآن بقصده ص۲۷۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۹۳. ظفیر

(۳) واکثره أربعون یوماً الخ ولو مبتدأةً اما المعتادة فترد لعادتها وکذا الحیض فان إنقطع علی أکثرهما او قبله فالکل نفاس (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحیض ج۱ ص۲۷۷، ط.س. ج۱ ص۳۰۰). ظفیر =

دماشوم دپیدا کیدلو څخه وروسته دجماع ممانعت ترکمه پورې دی؟ سوال: (۳۴۴\۱) دکمی ښځی چی ماشوم پیدا سوی وی نو دهغی سره دجماع څخه ممانعت ترکومه پوری دی؟

که چیري دممانعت په ورځوکی یعنی دنفاس په حالت کی جماع وکړی نو دهغی تلافی څنګه وکړی؟ سوال: (۳۴۵\۲) که چیري دممانعت په ورځوکی جماع وکړی نوددواړو دپاره څه تلافی ده؟

جواب: ۱: دکمی ښځی چی ماشوم پیدا سوی وی دهغی دپاره دنفاس موده دزیات څخه زیاته څلویښت ورځی ده که چیري یوی ښځی ته په دی موده کی وینه پرلپسې کمه او زیاته راځی نو دهغی خاوند ترڅلویښتو ورځو پوری دهغی سره کوروالی نه سی کولی، دڅلویښتو ورځو څخه وروسته ورته کور والی جائز دی. چونکه دنفاس په موده کی دکم مقدار هیڅ اندازه نسته ددی وجي که چیري دڅلویښتو ورځو څخه مخکی وینه بنده سوه نو دغسل کولو څخه وروسته دهغی سره صحبت او کوروالی جائز دی. ([1])

۲: توبه او استغفار دي وکړی اوپه ائنده کی دي داسی نه کوی وروسته په در مختار کی یی لیکلی دی چی که چیري دحیض په حالت کی دهغی خاوند دهغی سره جماع وکړی نو توبه اواستغفار دي وکړی اومستحب دی چی یودینار یانیم دینار دي صدقه کړی، کما ورد فی الحدیث، نوپه حالت دنفاس کی په جماع کولوکی هم صدقه کول ښه دی ([2]). فقط

دولس ورځی وینه بیا سپینی اوبه اوبیا وینه راغله نوڅه حکم دی؟ سوال: (۳۴۶) یوی ښځی ته ددولس ورځو نفاس راتلو څخه وروسته سپینی اوبه راغلی وروسته بیا وینه راغله نو

([4]) أما المعتادة فترد لعادتها وكذا الحيض (درمختار) وفيه قبل وإن إنقطع لأقله الخ لايحل حتى تغتسل او تيمم بشرط او يمضى عليه زمن يسع الغسل ولبس الثياب والتحريمة الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الحيض ج۱ ص۲۷۲، ط.س. ج۱ ص۳۰۰). ظفير

([1]) وأكثره اربعون يوما كذا رواه الترمذي وغيره الخ فإن إنقطع على أكثرهما او قبله فالكل نفاس (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الحيض ص۲۷۲ ج۱) وتوطأ بلا غسل بتصرم لا كثرة ولا قلة لا حتى تغتسل او يمضى عليها ادنى وقت صلوة كنز، اعلم ان هذه المسئلة على ثلثة اوجه لأن الدم إما ينقطع لتمام العشرة او دونها لتمام العادة او دونهما ففيها إذا إنقطع لتمام العشرة يحل وطؤها بمجرد الإنقطاع ويستحب له أن لايطأها حى تغتسل وفيما إذا إنقطع لما دون العشرة دون عادتها لا يقربها وإن إغتسلت ما لم تمضي عادتها وفيما إذا إنقطع للأقل لتمام عادتها إن إغتسلت أو مضى عليها وقت صلوة حل وإلا لا، وكذا النفاس إذا إنقطع لما دون الأربعين لتمام عادتها فان إغتسلت او مضى الوقت حل وإلا لا الخ (البحر الرائق باب الحيض ص۲۱۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۲۰). ظفير

([2]) ثم هو اى وطؤ الحائض كبيرة، لو عامدا مختارا عالما بالحرمة لا جاهلا او مكرها او ناسيا، فتلزمه التوبة ويندب تصدقه بدينار او نصفه ومصرفه زكوة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الحيض ص۲۷۷ ج۱، ط. س. ج۱ ص۲۹۷ - ۲۹۸). ظفير

ددغه وینی څه حکم دی؟

جواب: دنفاس په موده یعنی په څلوېښتو ورځوکی دننه چی کمه وینی راځی هغه ټوله په نفاس کی شمارل کیږی، اوپه مینځ کي چی کمی ورځی خالی تیری سی هغه به هم په نفاس کی شمیرل کیږی، البته که چیري دڅلوېښتو ورځو څخه زیاته جاری وه نوبیا به کتل کیږی چی ددی ښځی دنفاس سره متعلق څه عادت دمخکی څخه متعین ؤ اوکه نه؟ که چیري متعین ؤ نو دعادت دورځو څخه وروسته به استحاض شمارل کیږی مثلاً دیرش ورځی عادت یی ؤ، او وینه ترپنځوسو ورځو پوری جاری وه نو دیرش ورځی دنفاس اوباقی پاته ورځی به داستحاض وی. کما فی الهدایه وشرح الوقایه، اوکه چیري دمخکی څخه یې هیڅ عادت متعین نه ؤ، نوبیا څلوېښت ورځی نفاس اوباقی لس ورځی به استحاض وی ([1]). فقط

څلوېښت ورځی وروسته وینه راغله یوه هفته پاکه وه بیا وینه راغله نوهغه به څه شمارل کیږی؟ سوال: (۳۴۷) دیوی ښځی پوره څلوېښت ورځی نفاس ؤ، وروسته دڅلوېښتو ورځو څخه یوه هفته یعني اووه یا اته ورځی پاکه وه بیا سره وینه راغله نو دا وینه به حیض شمارل کیږی اوکه نه استحاض په اول ځل دنفاس وینه دیرش ورځی وه؟

جواب: نفاس دهغی څلوېښت ورځی دی، او داوو اتو ورځو څخه وروسته چی کمه وینه راغله هغه داستحاض ده ځکه چی پنځلس ورځی دطهر څخه وروسته پوره تیری نه سوی ([2]) قال في الشامي: ان الاصل فیه ان المخالفة للعادة في النفاس فان جاوز الدم الاربعین فالعادة باقیة ترد الیها والباقي استحاضة وان لم یجاوز انتقلت العادة الی ما رأته والکل نفاس. ([3]) فقط

دریم فصل : داستحاض مسائل

دطهر مطلب څه دی؟ که چیري دری میاشتی مسلسله وینه راسی نو دهغی دحیض حساب به څنګه کیږی؟ سوال: (۳۴۸) دطهر معنی څه شی ده؟ که چیري دیوی ښځی بی له بندیدلو څخه دری میاشتی وینه روانه وی نو دحیــض موده یی څنګه حسابیدلی سی؟ آیــا داول

([1]) واکثره اربعون یوما الخ والزائد علی اکثره إستحاضة لو مبتدأة وأما المعتادة فترد لعادتها وکذا الحیض فان إنقطع علی اکثرهما او قبله فالکل نفاس (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحیض ص۲۷۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۰). ظفیر

([2]) اقل الطهر بین الحیضتین اوالنفاس والحیض خمسة عشر یوما ولیالیها اجماعا (درمختار) هذا إذا لم یکن فی مدة النفاس (ردالمحتار باب الحیض ص۲۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۸۵). ظفیر

([3]) رد المحتار باب الحیض ج۱ ص۲۷۷، ط.س. ج۱ ص۳۰۱. ظفیر

دمیاشتی څخه؟

جواب: دمعتادی ښځی حیض حیض دهغی دعادت موافق نیول کیږی اوباقی پاته ورځو ته به حکم دطهر ورکول کیږی اوکه چیري معتاده نه وه نوکه مبتدأه وی یعني داسي وي چي دا دهغې دحیض لومړی ځل وي، نولس ورځی به چی اکثره موده دحیض ده دهری میاشتی څخه حسابیږی اوپه پاته شلو ورځوکی به لمونځ کوی اوروژه به نیسی، هغه وینه چی دحیض داکثره مودی څخه زیاته وی، یا دمعتادی دعدت څخه زیاته وی هغه استحاض دی اولمونځ او روژه په دغو ورځو کی واجب ده، او دطهر معنٰی ده دحیض نیستوالی، دحائضی او داستحاضی معتادی او دمبتدئی تفصیلي مسائل باید دفقهی په کتابونوکی وکتل سی (۱). فقط

دعادت والا ښځی چی کله لس اوکله یوولس ورځی وینه راسی نوڅه وکړی؟ سوال: (۳۴۹) دیوی ښځی پنځه ورځی دحیض عادت ؤ وروسته به کله لس اوکله به یوولس ورځی وینه راتله، نودپنځو ورځو څخه وروسته داپه حکم دحائضی کی ده اوکه نه پاکه ده؟

جواب: که چیري په لسو ورځوکی دننه وینه راغلی وه نوټول به حیض شمارل کیږی اوکه چیري دلسو ورځو څخه یی تجاوز وکی نوپه ذکر سوی صورت کی به دعادت ورځی یعنی پنځه ورځی حیض اوباقی به استحاض شمارل کیږی. هدایه وشرح وقایه. فقط

څلورم فصل : دمعذور متعلق احکام او مسائل

دطهارت دپاره دمعذور کیدلو څه شرائط دی؟ سوال: (۳۵۰) دطهارت په باره کی دمعذور کیدلو څه شرط دی؟

جواب: په ابتداء کی دمعذور شرعی کیدلو دپاره یی داشرط دفقهی په کتابونو کی لیکلی دی چی دلمونځ یو وخت پرده باندی داسی تیر سی چی په هغه کی ده ته دومره قدر مهلت پیدانه سی چی اودس وکړی اوبغیر ددغه عذر څخه پوره لمونځ وکړل سی که چیري په یوه وخت کی همداسی سوی وی چی هغه ته دلمونځ دادا کولو مهلت بغیر ددغه عذر څخه پیدا نه سی نوهغه معذور سو، دهغه څخه وروسته په ټول وخت کی یوځل هم ذکر سوی عذر کافی دی (۲). فقط

---

(۱) وأکثره عشرة بعشر لیال کذا رواه الدار قطنی وغیره والناقص عن اقله والزائد علی أکثره النفاس او علی العادة او جاوز اکثرهما وما تراه صغیرة دون تسع علی المعتمد وآیسة علی ظاهر المذهب، وحامل الخ استحاضة واقل الطهر بین الحیضتین خمسة عشر یوما ولیالیها اجماعا ولا حد لأکثره الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحیض ص۲۲۲ – ۲۲۳، ط.س. ج۱ ص۲۸۴). ظفیر

(۲) وصاحب العذر من به سلسل البول (إلی قوله) إن إستوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة بان لا یجد فی =

دمتیازو دڅاڅکو دعارض کیدو په حالت کی څه حکم دی؟ سوال: (۳۵۱) یو څوک دمتیازو یا دمنی دڅاڅکو دعارض کیدلو سره مخ سونو دداسی شخص دپاره څه حکم دی ایا دوباره اودس وکړی اوجامه پاکه کړی اوکه نه؟

جواب: که چیري دمتیازو وغیره څاڅکی راتلل دشرعی عذر حدته نه وی رسیدلی نوکله چی څاڅکی دباندي راتلل یقینی وی نواودس کول ضروری دی، (۱) اوکه چیري شرعی عذر ته رسیدلی وی په دی ډول چی دلمونځ په ټول وخت کی دومره وخت هم ده ته پیدا نه سی چی اودس پوره کړی اولمونځ وکړی او دڅاڅکی څخه محفوظ پاته سی نودغه سړی شرعی معذور سو، دده حکم دادی چی په ټول وخت کی دي یوځل اودس وکړی اودټول وخت کم لمونځ چی غواړی ودی کړی داودس داعادی ضرورت په دغه وخت کی نسته، نوچی کله وخت ووزی نواودس به مات سی، کذا فی الدرالمختار وغیره. (۲) فقط

چی په لمانځه کی یې باد جاری سي نوڅه وکړی؟ سوال: (۳۵۲) دلمانځه دشروع کیدلو څخه وروسته چی دچا باد سی او تر اخری وخته پوری بند نه سی نولمونځ څنګه وکړی؟

جواب: که چیري دوخت دداخلیدلو څخه وروسته چاته دباد وتلو وغیره عذر پیدا سو، نوهغه دي تراخری وخت پوری انتظار وکړی، نوکه چیري باد برابر جاري وو نو په همدی حالت کی دي اودس اولمونځ وکړی، که چیري په دویم وخت کی هم عذر جاري ؤ نو اعاده لازمه نه ده کنې اعاده لازمه ده (۳) شامی. فقط

دناسور زخم والا معذور دی اوکه نه؟ سوال: (۳۵۳) یو چاته دناسور عارضه ده، څاڅکی او لوندوالی ورڅخه خارجیږی اوپه جامه کی جذب کیږی اودا مرض دائمی دی نو داشخص

= جمیع وقتها زمنا یتوضا ویصلي خالیا عن الحدث (إلی قوله) وهذا فی حق الإبتداء وفی حق البقاء کفی وجوده فی جزء من الوقت ولو مرة الخ (الدر المختار علي هامش ردالمحتار احکام المعذور ج۱ ص۲۸۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵). ظفیر

(۱) وینقضه خروج کل خارج نجس منه ای من المتوضی الحی معتادا کان اولا، من السبیلین اولا (درمختار) قوله معتادا کالبول والغائط (ردالمحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۲۴، ط.س. ج۱ ص۱۳۴). ظفیر

(۲) وصاحب عذر من به سلسل البول الخ إن إستوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة بان لایجد فی جمیع وقتها زمنا یتوضأ ویصلي خالیا عن الحدث ولو حکما لأن الإنقطاع الیسیر ملحق بالعدم وهذا شرط العذر فی حق الإبتداء وفی حق البقاء کفی وجوده فی جزء من الوقت ولو مرة الخ وحکمه الوضوء ولا غسل ثوبه ونحو لکل فرض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحیض احکام المعذور ج۹ ص۲۸۰ – ۲۸۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵). ظفیر

(۳) ولو عرض بعد دخول وقت فرض إنتظر إلی اخره فان لم ینقطع یتوضأ ویصلي ثم إن إنقطع فی إثناء الوقت الثاني یعید تلك الصلوة وإن إستوعب الوقت الثاني لا یعید لثبوت العذر من وقت العروض (ردالمحتار أحکام المعذور ص۲۸۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵). ظفیر

دمازیگر په اوداسه دمابنام لمونځ کولی سی اوکه نه؟ چی همدغه جامی یی اغوستی وی، نولمونځ کول اوامامت کول یی صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دغه کس معذور دی او معذور دغیر معذور امام کیدلی نه سی کما فی الدرالمختار ولا طاهر بمعذور (۱) او معذور په وخت کی دننه دننه ددغه عذر سره لمونځ کولی سی، او دجامو په پریمنځلو کی تفصیل دادی چی که چیري دا اندیښنه وی چی که جامه پریمنځل سی نوبیا به دلمانځه څخه مخکی پلیته سی نونه پریمنځل یی صحیح دی، اوکه چیري داسي ګنی چی دلمانځه څخه ترفارغ کیدلو پوری به ددرهم څخه زیاته ناپاکه نه سی نو پریمنځل یې په کار دی (۲). فقط

چی دمتیازو دڅاڅکو زیاتوالی دومره وی چی څلور رکعاته هم خالی نه کیږی نوڅه وکړی؟

سوال: (۳۵۴) چاته چی دمتیازو دڅاڅکو زیاتوالی دومره زیات سی چی هیڅ یوه ورځ په څلور رکعتونوکی دننه هم بند نه سی نوهغه ته دارخصت حاصل سو، چی داوداسه څخه وروسته دي لمونځ پوره کړی په مینځ کی څاڅکی که راځی اوکه نه راځی، اوکه چیري داحالت وی چی بیا څاڅکی ډیر ډیر وخت وروسته راځی نو دهغه دپاره به ترکامل صحت پوری هم رخصت باقی وی یا چی کله په کم لمانځه کی څاڅکی راغی نو نوی اودس به وکړی او لمونځ به دسر څخه نوی کوی؟

جواب: هغه ته دارخصت باقی پاته دی. کذا فی الدرالمختار. (۳) فقط

ترشلو رکعتونو پوری چی دچا اودس وی هغه معذور نه دی سوال: (۳۵۵) سلسل البول مرض والا یا هغه چی باد یی نه ټینګیږی، دچاچی ددولس، پنځلس یا دشلو رکعتونو څخه زیات اودس نه ټینګیږی په ټول شواروز کی هیڅ وخت ددې څخه زیات نه پیدا کیږی هغه هر وخت دتلاوت په غرض یا طالبانو ته دوراِزده کولو دپاره قرآن پاك ته دتیمم سره لاس وروړلی سی اوکه نه؟ اوتلاوت دسجده چی ولولی یا یی واوری په تیمم سره سجده دتلاوت کولی سی اوکه نه؟ بینوا وتؤجروا !

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الإمامة ص۴۵۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۷۸. ظفیر

(۲) وإن سال علی ثوبه فوق الدرهم جاز له ان لا یغسله إن کان لو غسله یتنجس قبل الفراغ منها أی الصلوة وإلا یتنجس قبل فراغه فلا یجوز ترك غسله هو المختار للفتوی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحیض أحکام المعذور ص۲۸۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵). ظفیر

(۳) إن إستوعب عذره تمام وقت صلاة مفروضة بأن لایجد فی جمیع وقتها زمنا لیتوضأ ویصلي خالیا عن الحدث ولو حکما لأن الإنقطاع الیسیر ملحق بالعدم وهذا شرط العذر فی حق الإبتداء وفی حق البقاء کفی وجوده فی جزء من الوقت ولومرة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحیض مطلب أحکام المعذور ج۱ ص۲۸۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۲). ظفیر

جواب: دغه شخص شرعی معذور نه دی (۱) هغه لره قرآن پاك ته لاس وروړل اوسجده دتلاوت بغیر داودس څخه صحیح نه ده. (۲) فقط

که چیري دفارغه کیدو څخه مخکی دجامی دپلیتیو اندیښنه وی نوڅه حکم وکړی؟ سوال: (۳۵۶) دکم شخص څخه چی څاڅکی وغیره ولویږی اوهغه معذور وی، کله چی هغه دلمونځ کولو اراده وکړه نوجامه یی پریمنځله خوبیا جامه پاکه سوه نودوباره دهغه دپاره دجامو پریمینځل ضروری دی اوکه نه؟

جواب: معذور که چیري داسی وی چی که چیري هغه جامه پریمنځی نوخیال یی وی چی دلمانځه کولوڅخه مخکی به بیا پلیته سی نو دپریمنځلو ضرورت یی نسته (۳) او دبل وخت دپاره یی پریمینځل ضروری دی. فقط

دناسور مرض والا معذور دی اوکه نه؟ سوال: (۳۵۷) دکوم شخص چی دناسور زخم وی هغه معذور دی اوکه نه؟

جواب: ناسور که چیري هروخت بهیږی نوبیا ناسور والا معذور دی. (۴) فقط

څاڅکو توئیدلو والا مریض معذور دی اوکه نه؟ سوال: (۳۵۸) دڅاڅکو والا څاڅکی په وقفه سره راځی یا ژر، ژر راځی نودا معذور دی اوکه نه؟ او په یوه اودس سره دیوه وخت لمونځ کولی سی اوکه نه؟

جواب: کله چی هغه معذور سو اوشرعًا پرهغه باندی دمعذور حکم ولګیدی نو اوس څاڅکی برابره خبره ده که په وقفه سره راځی اوکه ژر، ژر، په یوه اودس سره په یوه وخت کی فرض، سنت، نفل ټول کولی سی. (۵) فقط

---

(۱) شرط ثبوت العذر إبتداء أن يستوعب إستمراره وقت الصلاة كاملا كالإنقطاع لا يثبت ما لم يستوعب الوقت كله (عالمگيري ج۱ ص۳۸، ط. ماجدية ج۱ ص ۷۰). ظفير

(۲) ويجب بسبب تلاوة آية الخ بشروط الصلوة المتقدمة (درمختار) ولهذا لا يجوز اداءها بالتيمم إلا ان لا يجد ماء الخ (ردالمحتار باب سجود تلاوة ص۷۱۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۰۷). ظفير

(۳) وإن سال على ثوبه فوق الدرهم جاز له ان لا يغسله إن كان لو غسله تنجس قبل الفراغ منها أي الصلوة ولا يتنجس قبل فراغه فلا يجوز ترك غسله هو المختار للفتوى (الدر المختار على هامش ردالمحتار احكام المعذور ص۲۸۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵). ظفير

(۴) وهذا اذا لم يمض عليهم وقت فرض إلا وذلك الحدث يوجد فيه الخ فالحاصل أن صاحب العذر ابتداء من استوعب عذره تمام وقت صلاة ولو حكما لأن الإنقطاع اليسير ملحق بالعدم وفى البقاء من وجد عذره فى جزء من الوقت وفى الزوال يشترط استيعاب الإنقطاع حقيقة (البحر الرائق باب الحيض ص۲۲۸ ج۱). ظفير

(۵) إن إستوعب عذره تمام وقت صلاة مفروضة الخ حكمه الوضوء لا غسل ثوبه نحوه لكل فرض اللام للوقت كما في دلوك الشمس ثم يصلي به فيه فرضا ونفلا فدخل الواجب بالاولى فاذا خرج الوقت بطل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار مطلب أحكام المعذور ج۱ ص۲۸۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵). ظفير

معذور دوخت څخه مخکې اودس کولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (٣٥٩) یو چاته په متیازو کی قطره راځی اوهر وخت راځی چونکه داکس دهر لمانځه دپاره تازه اودس کوی دماښام په وخت کی دده څخه یو یا دوه رکعته دجمعې سره فوت کیږی نوپه داسی حالت کی دوخت څخه مخکی اودس کولی سی اوکه نه؟

جواب: کله چی دغه کس معذور دی نوده لره دوخت څخه مخکی اودس کول درست نه دی، نودوخت څخه وروسته دي اودس کوی اګر که جَمعه ورڅخه فوت سی. ([١]) فقط

دکثرت جریان دوجه څخه چی کله جامه پاکه نه سی پاته کیدلی نولمونځ څنګه وکړی؟

سوال: (٣٦٠) خاکسار دجریان په مرض باندی مبتلا دی اوداسی حالت دی چی جامه هر وخت خرابه وی دلمبلو څخه وروسته هم پاك اوسیدل مشکل دی اوس وفرمایاست چی لمونځ به څنګه ادا کړم؟

جواب: په داسی حالت کی تاسو په همدغه حالت کی اودس کوی اولمونځ کوی، دغسل ضرورت نسته دا ودی وغیره ده منی نه ده په دي کی اودس لازم وی او دلمانځه دپاره بله جامه وساتی، که چیري دلمانځه په حالت کی هم قطره راسی نولمونځ پوره کړی او لمونځ صحیح کیږی. دلمانځه څخه وروسته که دغه پرتوګ ته قطره لګیدلی وی نو ودی مینځي او کښیږدی بیی دبل لمانځه په وخت کی دی بیا هغه واغوندی او اودس دي وکړی اولمونځ دي وکړی په هرحال لمونځ په همدی حالت کی کوی هغه لمونځ صحیح دی ([٢]). فقط

ددې اعذارو په وجود کی څه حکم دی؟ **سوال**: (٣٦١) ماته دبولو عارضه ده په شواروز کی شل پنځه ویشت ځلی متیازی راځی او پرتوګ می لندیږی په دی وجه سره اودس می نه پاته کیږی دلمانځه په وخت کی یې تازه کوم خوپه حالت دلمانځه کی په کښینستلو او پاڅیدلو سره څاڅکی راځی اوپه هررکعت کی همدا حالت وی، ددغی وجه څخه لمونځ په ناسته ادا کوم، په داسی حالت کی قطره نه وزی او دناستی په حالت کی ګیډه دزنګون سره لګیږی او دسجدی په وخت کی دپښو ګوتی دقبلې طرف ته نه وی بلکه

([١]) وصاحب عذر الخ (الی قوله) حکمه الوضوء لکل فرض اللام للوقت ثم یصلي به فیه فرضا ونفلا فاذا خرج الوقت بطل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب أحکام المعذور ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج١ ص٣٠٥ – ٣٠٢). ظفیر

([٢]) وصاحب عذر منه به سلسل بول لا یمکنه امساکه او استطلاق بطن او انفلات ریح ان استوعب عذره تمام وقت صلاة مفروضة بان لا یجد في جمیع وقتها زمنا یتوضأ ویصلي فیه خالیا عن الحدیث وحکمه الوضوء الله تعالی غسل ثوبه ونحو لکل فرض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب احکام المعذور ج١ ص٢٨١، ط.س. ج١ ص٣٠٥). ظفیر

ددواړو پښو په غزولو کی سکون وی، دپښو په سیده درولو سره په قعده کی تکلیف وی، نو ددغو اعمالو دوجه څخه لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: یجب رد عذره او تقلیله بقدر قدرته ولو بصلوته مؤمیًا الخ وفی الشامی وکذ لو سأل عند القیام یصلی قاعداً الخ ((۱) نوپه مسؤوله صورت کی تاسو ته لمونځ کول په ناسته صحیح دی کله چی په دغه سره قطره بندیږی او دسجدی په وخت کی که چیري په مذکوره ضرورت ګوتی دقبلی طرف ته نه وی نوپه دي کی هم هیڅ څه حرج نسته ، څنګه چی اسان وی اوقطره بندیږی هم هغه ډول کوی او لمونځ ادا کوی. فقط

چی دهوا وتلو مرض یی وی نو دا معذور دی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۲۲) دزید اکثره هوا جاری وی اوبعض وخت دلمانځه کامل وخت تیر سی چی هغه دمذکوره مرض څخه فارغ سی، نودی شرعی معذور کیدی سی اوکه نه؟ اوپه یوه اودس سره دابتلاء په حالت کی لمونځ ادا کولی سی اوکه نه؟

جواب: په شروع کی دعذر دخاوند کیدلو دپاره داضروری ده چی دلمانځه په ټول وخت کی هغه ته دومره موقع پیدا نه سی چی په ټول وخت دلمانځه کی یی بغیر ددی عذر څخه اودس اولمونځ پوره کړی وی نوهغه معذور سو، هغه لره دلمانځه په ټول وخت کی فرض اونفل لمونځونه کول صحیح دی اوچی کله وخت تیرسو نودهغه اوس صحیح پاته نه سو، بیابه دغه شخص ترهغه وخته پوری معذور اوسیږی ترڅو چی دلمانځه په ټول وخت کی یوځل هم هغه ته عذر مذکوره واقع نه سی، درمختار (۲). فقط

دسترګو جوړولو په حالت کی څرنګه وکړی کله چی طبیب دښوریدلو اجازت نه ورکوی:

سوال: (۳۲۳) دسترګو دجوړولو په صورت کی دطبیب دممانعت په وجه سره ترمعین وخت پوری لمونځ مؤخر کړی اوکه اشاره وکړي؟ که چیري په اشارې لمونځ کولای سي نوڅنګه؟ آیا زني دسینې طرف ته لږه مائله کړی، او دسجدی په حالت کی په اشاره کولو کی ددې څخه نور زیات اوتکیه ترسر لاندی څنګه کیدل په کاردی؟ دبعضو عبارتو څخه مفهوم کیږی چی داشاری دپاره تشبیه بالقعود کیدل په کاردی، او استلقاء په ظاهره داسی برابري پروتی ته وایی چی ټول بدن دبستری سره یوځای سوی وی؟

جواب: دسترګو دجوړولو په صورت کی دی دممانعت څخه وروسته په اشاری سره لمونځ کوی او مؤخر کول یی صحیح نه دی، اوکه چیري مؤخر یی کړی نو بخښنه دي

(۱) ردالمحتار فصل احکام المعذور ج۱ ص۳۸۳، ط.س. ج۱ ص۳۰۷. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار أحکام المعذور ج۱ ص۲۸۰، ط.س. ج۱ ص۳۰۵. ظفیر

وغواړی او دلمانځه قضاء دي راوړي، اوپه اشاری سره دلمانځه دکولو صورت دادی چی برابر دي پرېوزي اوتر سر لاندی دي تيکيه وکړی هر رنګه تکيه چی وی غټه وی اوکه نری وی، خوکه چيري دغتی تيکه اجارت طبيب ورکړی نودا ښه ده ولي چی په دي کی به درکوع او دسجدی اشاره په ښه ډول اوپه اسانی سره کيږی او درکوع اشاره دي دننه لږ څه سر دسينی طرف ته په ټيټولو سره ادا کړي، اودسجدی اشاره دي ددې څخه لږ څه زياته وی په شامی کی يی درکوع او دسجدی داشاری په باب داتشريح کړيده: اشار الی انه يکفيه ادنی الانحناء عن الركوع (١) اوپه درمختار کی دی: ويجعل سجوده اخفض من ركوعه (٢) ددی حاصل دادی چی درکوع دپاره لږ څه سر ټيټول کافی دی او دسجدی دپاره به ترهغه لږ څه زيات وی، که چيري چاته څه شبه پاته سی نوهغه لمونځ ګذار دي دهغه لمونځونو اعاده وکړی په کومو کی چی شبه پاته ده، په اشاری کی دسر څه قدر حرکت کول ضروری دی اومحضي زنه دسينی طرف ته مائله کول کافي نه دی. فقط

دعذر په حالت کی لمونځ کولای سی اوکه نه؟ سوال: (۳۲۴) دجريان وغيره مرض څخه يو ځوك مجبور دی اوطاقت يی شروع دی زائل کيږی ايا په داسی حالت کی هم هغه ددين احکام اونور ادا کولی سی؟

جواب: په همدی حالت کی دي ټول کارونه کوی دمعذور مسئله هم په فقه کی موجوده ده کم ځوك چی معذوره وی هغه په وخت کی دننه لمونځ په يوه اودس سره کولی سی او دقرآن پاك تلاوت او درود شريف او تسبيح اونور صحيح دی کله چی وخت ووتی نو اودس به پاته نه سی (٣). فقط

دسترګی دعلاج په حالت کی لمونځ څنګه وکړی؟ سوال: (۳۲۵) دسترګی دعلاج په حالت کی دلمونځ متعلق دسنبهل دمدرسی په مدرسينو کی په خپلوکی اختلاف سو، ديوه رايه داده چی ايماء بالکل جائز نه ده ترڅو پوری چی شبيه بالقعود نه وی، دبل رايه داسوه چی په حالت داستلقاء دي ايماء په دی طريقه باندی کوی چی کله دسر حرکت ممنوع دی نو زنه دي دسينی طرف ته مائله کړی او دسجدی په حالت کی دي ددي څخه زياته مائله کړی اودلمونځ تأخر جائز نه دی، دمولوی کريم بخش صاحب او دمولوی

---

(١) ردالمحتار باب صلاة المريض ص۷۱۱ ج۱، ط.س. ج۲ ص۹۸. ظفير

(٢) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة المريض ج۱ ص۷۱۱، ط.س. ج۲ ص۹۸. ظفير

(٣) وان استوعب عذره تمام وقت صلاة مفروضة بان لا يجد في جميع وقتها زمنا يتوضأ ويصلي فيه خاليا عن الحدث الخ وحكمه الوضوء لكل فرض الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار أحكام المعذور ج۱ ص۲۸۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵). ظفير

نذیراحمد صاحب جوابات مو دمولوی عبدالقیوم صاحب په معرفت ستاسو په خدمت کی لیکلی وه، اوس مو هغوی ته دوه کارډونه ولیکل جواب یی رانه کړی دمولوی نذیر احمد صاحب جواب صاف تحریر شده ستاسي په خدمت کي دی، او دمولوی صاحب کریم بخش جواب که چیري نه وی رسیدلی نو دمولوی عبدالقیوم صاحب څخه یی ترلاسه کړئ کنې دهغه خلاصه مو تاسي ته عرض کړی ده چی ایماء جائز ده په اشاری دزنی سره؟

جواب: عنایت نامه راورسیده مولوی عبدالقیوم صاحب هیڅ تحریر څومره چی راته یاد دی نه دی راکړی یوه لفافه اوس اوس په دویم داپریل راورسیده چی په هغی کی صرف دمولوی صاحب نذیر احمد صاحب جواب دسترګو جوړونکی دلمونځ متعلق دی په هغه کی هیڅ پته نه وه ددی وجه درونه لیږل سو اوس دجناب خط راوریسدی په هغه کی هم دمولوی نذیراحمد صاحب جواب سته، دمولوی کریم بخش جواب می نه دی لیدلی خو دهغه خلاصه ستاسو دتحریر څخه واضحه سوه.

صحیح جواب هم هغه دی کوم چی مولوی نذیراحمد صاحب لیکلی دی دزنی اشاره کافی نه ده، په اشاری سره دلمونځ دصحیح کیدو دپاره اشاره بالراس اوحرکت دراس ضروری دی په دی وجه دتکیی وغیره ضرورت فقهاء لیکلی دی نو که چیري دزنی په اشاری یا دورځو اوسترګو په اشاره سره یی لمونځ وکی ، نوهغه لره اعاده کول په کاردی، په دي کی احتیاط هم دی ددی وجه اوس په دي کی دزیات طول ورکولو او دبحث ضرورت نسته [1]. فقط

دنامردي دوجه څخه طلا استعمالوی او ډاکټر یی داوبو څخه بالکل منعه کوی نوهغه لمونځ څنګه وکړی؟ **سوال**: (۳۷۲) یو څوك دسستی په وجه طلائی نامردی استعمالوی او داوبو دلګولوڅخه یی طبیب منع کوی، بلکه په شرابوسره یې عضو تناسل ورپریمینځی نوپه دی صورت کی داستنجاء کولو څخه او داحتلام په وخت کی دغسل کولو څخه مجبور دی نوهغه لمونځ څنګه ادا کړی؟

جواب: دوا کول په حرام اوپه نجس شی سره هغه وخت صحیح دی چی یو مسلمان حاذق طبیب ده ته دا ووایی چی په دی دارو کی ستا شفا ده او دهغه بدل دحلالو دارو څخه نه سی کیدی: قال في النهاية وفي التهذيب يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة

---

[1] ويجعل سجوده اخفض من ركوعه لزوما الخ وان تعذر الايماء برأسه وكثرت الفوائت الخ سقط القضاء عنه الخ ولم يؤم بعينه وقلبله وحاجبه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلاة المريض ج۱ ص۷۱۱ – ۷۱۲ – ۷۱۳، ط.س. ج۲ ص۹۸). ظفير

للتداوي اذا اخبره طبيب مسلم ان فيه شفاءه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه الخ (۱) نوکه چيري شرط مذکور پيدا سی نودشرابو استعمال په غرض دصحت صحيح دی اولمونځ هم په دغه حالت کی صحيح دی اوکه نه نو نه دی. فقط

دمرض په وجه يې داغ ولګوی او دلمانځه تر پوره وخته پوری وينه جاری وه نوڅه وکړی؟

سوال: (۳۲۷) يو څوك دوينی دخرابوالی ددفعه کولو دپاره په خپل ساق کی داسی زخم وکی چی په زخم کولو سره يی وينه جاری سوه پوره يووخت دلمانځه يی وينه جاری وه خو دزخم دتازه ساتلو دپاره يی نيم دلرګی يو کوچنی ډول پوډر په هغه کی داخل کړه اوسربيره يی وربانډی دوه دری غبرګه دکپړی يوه پټی هم وتړله چی دهغی په وجه کله کله څه وينه او نوی جاری کيږی اوکله تر دوه دری وختونو پوری وينه بنده وی اوکله ناکله دوه دری ځلی په يوه وخت کی دننه وينه يا نوونه جاری کيږی، ايا دا کس به معذوره شمارلی کيږی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وصاحب عذر الخ ان استوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة بان لا يجد في جميع وقتها زمنا يتوضأ ويصلي فيه خاليا عن الحديث الخ وهذا شرط العذر في حق الإبتداء وفي حق البقاء كفى وجوده في جزء من الوقت ولو مرة وفي حق الزوال يشترط استيعاب الإنقطاع تمام الوقت حقيقة الخ درمختار (۲) ددی عبارت څخه دمعذور متعلق چی څه تفصيل ؤ داظاهر سو اوبيا ترڅو پوری چی په ټول وخت کی انقطاع حقيقةً نه وی هغه کس به معذور اوسی او معذوره کس دغير معذورينو امام نه سی کيدی (۳). فقط

دزخم څخه څه مواد څاڅکی په دی حالت کی دماپښين په اوداسه سره دمازيګر لمونځ جائز دی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۲۸) زما په پنډۍ کی يوه دانه ده چی په هغی کی سوری وسو اومواد ورڅخه خارج سول هغه سوری لاباقی دی اودهغه څخه څه نرم مواد خارجيږی اودزخم شکل نسته، دشپی اودسهار لخوا پر هغی باندی لونده خاوره دشيری په شان تړل کيږی چی خاوره پروتړم نو دماپښين، مازيګر، ماښام دپاره اودس وکړم دماخسوتن اودسهار په وخت کی دغبرګی کپړی پټی جوړه کړل سی او وربانډی وتړل سی نو دماپښين په اوداسه سره دمازيګر يا دمازيګر په اوداسه سره دماښام لمونځ کول سم بغير دپټی دخلاصولو څخه کله چی اودس باقی وی اوکه يې نه سم کولی؟

(۱) ردالمحتار باب المتفرقات في كتاب البيوع جلد رابع ص۲۹۸، ط.س. ج۱ ص۲۲۸. ظفير

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار أحكام المعذور ج۱ ص۲۸۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵. ظفير

(۳) ولا طاهر بمعذور (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الإمامة ج۱ ص۵۴۱، ط.س. ج۱ ص۵۷۸). ظفير

جواب: كه ددغه سوري څخه هروخت څه ناڅه مواد راوزي هغه كس معذور دی، هغه لره په يوه اودس سره دبل وخت لمونځ كول صحيح نه دي دوخت په وتلو سره دهغه اودس ماتيږي دبل وخت دپاره بيا تازه اودس كول په كاردي په در مختار كی دی: وحكمه الوضوء لكل فرض فاذا خرج الوقت بطل الخ (۱). او دمعذوره تعريف دادی چی ابتداءًا هغه ته داسی نوبت راغلی وی چی په تمام وخت كی تردومره ساعت پوری مواد وتل بند سوی نه وی چی په هغه كی اودس وكړی اولمونځ وكړل سی، په درمختار كی دی: وصاحب عذر من به سلسل البول الخ اوبعينه رمد الخ ای يسيل من الدمع، شامی، ان استوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة بان لايجد فی جميع وقتها زمناً يتوضأ ويصلی فيه خاليًا عن الحديث الخ وهذا فی حق الابتداء وفی حق البقاء كفی وجوده فی جزء من الوقت ولو مرة الخ (۲). فقط

دمعذور داوداسه څه حكم دی؟ سوال: (۳٦۹) يو چاته دناسور عارضه ورپيښه ده اوقطره قطره رطوبت يې خارجيږي اوپه جامه كی جذب كيږي اودا مرض دائمی دی نوداكس دمازيګر په اوداسه سره دماښام لمونځ كولی سی اوكه نه؟ اوچی همدغه جامه يی اغوستی وی نولمونځ كول اوامام كيدل ورلره صحيح دی اوكه نه؟

جواب: دغه كس معذور دی اودغير معذورينو امام كيدلی نه سی: كما فی الدرالمختار ولا طاهر بمعذور (۳) اومعذور په وخت كی دننه لمونځ ددغه سره كولی سی اوپه جامې پريمينځلو كی تفصيل دی چی كه چيري دا انديښنه وی چی كه جامه پريمنځل سی نودلمونځ څخه مخكی به ناپاكه سی نونه پيرمنځل يی صحيح دی اوكه چيري داسي ګنی چی دموقع تر نه فارغ كيدلو پوری به ددرهم څخه زياته ناپاكه نه سی نو پريمنځل يی په كاردی (۴). فقط والله تعالی اعلم

مجبوره دسجدی دپاره مخ ته څه شي ايښودلی سی اوكه نه؟ سوال: (۳۷۰) مريض ياحامله ښځه چی پر سجده باندی قدرت نه لری نو مخ ته يو شی ايښودل او پر هغه باندی سجده

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحيض مطلب فی أحكام المعذور ج۱ ص۲۸۱ – ۲۸۲، ط.س. ج۱ ص۳۰۵. ظفير

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحيض مطلب فی احكام المعذور ج۱ ص۲۸۰ - ۲۸۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵. ظفير

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص۵۴۱. ظفير

(۴) وحكمه (ای صاحب العذر) الوضوء لا غسل ثوبه ونحوه لكل فرض (إلی قوله) وان سال علی ثوبه فوق الدرهم جاز له أن يغسله إن كان لو غسله تنجس قبل فراغه منها ای الصلوة والا يتنجس قبل فراغه فلا يجوز ترك غسله هوالمختار للفتوی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص۳۸۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵ – ۳۰۲). ظفير

کول صحیح دی اوکه نه په اشاری سره سجده وکړی؟

جواب: کم مریض چی سجده نه سی کولی هغه دی اشاره کوی او دسجدی دپاره دي مخ ته یو شی نه ایږدی. (1) فقط والله تعالی اعلم

چی پر لاس یا پښه باندي یې زخم وی نومسح څرنګه وکړی؟ سوال: (۳۷۱) چی پر لاس دبابا یا پرپښه باندی زخم وی اوپه اوبو لګولو سره اندیښنه دزیاتیدلو وی نومسح په کمی طریقی سره وکړی؟ دزخم شاوخوا خوبه ضرور پاته وی که چیري پټی یی ایښی وی نوایا پرټی باندی مسح وکړی اوکه چیري دده سره داوبو ددننه تللو اندیښنه وی نوایا شاوخوا مسح وکړی اوددی څه طریقه ده؟ اوکه چیري پټی دزخم څخه پرزیات ځای باندی وی نومسح څنګه وکړی؟ اودغسل په حاجت کی څنګه وکړی؟

جواب: کله چی په پریمنځلو سره اندیښنه دزخم زیاتیدلو وی نوپر هغه باندی مسح صحیح ده په مسح کی لوند لاس ګرځول دی پر هغه ځای باندی اول داحکم دی چی که چیري بغیر دپټی څخه په لاس ګرځولوکی څه اندیښنه نه وی نو دپنبې او پټی څخه بغیر دي پرهغه ځای باندی لوندلاس وګرځوی اګر چی بعض بعض ځای په هغه کی وچ پاته سی اوکه بغیر دپټی وغیره په مسح کولوکی دزخم بیره وی نو پرپټی یا پنبه باندی دي لوند لاس وګرځوی او دشاوخوا په وچ پاته کیدو سره هیڅ حرج نسته اوپټی اګر چی دزخم څخه زیاته ده پرټوله پټی باندی دي مسح وکړی هیڅ حرج پکښی نسته اوچی دغسل ضرورت وی نوهم دغه حکم دی چی دزخم پرځای دي مسح وکړی لکه څرنګه چی پورته مذکور سوه او باقی بدن دي پریمنځی اوبه دي پر وبهوی. (2) فقط

خروج دریح دومره ډیر دی چی داوداسه مهلت نه پیدا کیږی نولمونځ څرنګه وکړی؟ او ددغه اودس سره نفل وغیره کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۷۲) دزید بعض وخت استخراج ریح دومره زیات سی چی په اطمینان سره اودس پوره کولی نه سی لمونځ خو لویه خبره ده اوکله کله داسی کیږی چی اودس هم او دوه دری رکعته هم وکړی خو ریاح نه ورځی په

(1) وإن تعذر لیس تعذرهما شرطاً بل تعذر السجود کاف لا القیام او ماء قاعدا الخ ویجعل سجوده اخفض من رکوعه لزوما ولا یرفع الی وجهه شیئا یسجد علیه بانه یکره تحریما (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج ۱ ص۷۱۰ ، ط.س. ج۲ ص۹۸ باب صلوة المریض). ظفیر

(2) ویمسح نحو مفتصد وجریح علی کل عصابة مع فرجتها فی الأصح إن ضره الماء وحلها ومنه أن لایمکنه ربطها بنفسه ولایجد من یربطها إنکسر ظفره فجعل علیه دواء او وضعه علی شقوق رجلیه اجری الماء علیه إن قدر وإلا مسحه وإلا ترکه (الدر المختار مجتبائی ج۱ ص۵۰، ط.س. ج۱ ص۲۷۸ باب المسح علی الخفین) لکن إذا کانت زائدة علی قدر الجراحة فان ضره الحل والغسل مسح الکل تبعا الخ (ردالمحتار ج۱ ص۲۵۹، ط.س. ج۱ ص۲۸۰). ظفیر

داسی حالت مذکوره کی دي زید بلا خطر لمونځ کوی؟ اوکه نه بل څه حکم دشارع علیه السلام دی؟ په هرو دوارو حالتونوکی زید په دغه اوداسه سره چی ده لمونځ ادا کړی دی تلاوت دکلام الله په کتلو سره یا نور څه وظائف یا درود شریف لوستلی سی یاتعلیم ورکولی سی اوکه ددهریوه دپاره دي تازه اودس کوی؟

جواب: دهغه حکم دمعذور دی دهریوه وخت دپاره دي جدا اودس کوی اوپه وخت کی دننه په یوځل اودس کولو سره فرض سنن، اونوافل اوسجدة تلاوت اودقرآن پاك تلاوت په مسه دمصحف سره کولی سی ([1])، او وظائف، تسبیح او تهلیل، درود شریف خوبغیر داوداسه څخه هم ویلی سی ([2]). فقط

چی دخروج ریح دوره راځی نولمونځ څرنګه ادا کړی؟ سوال: (۳۷۳) ماته دمعدی دکمزوری په وجه داخراج ریح مرض هم معلومیږی چی اکثره په لمانځه کی هم ریح خارج سی اومات په طور ددوری وی ددوری په ورځوکی دیو لمانځه دپاره څلور پنځه ځلی اودس کول وی، نوپه داسی حالت کی شرعی حکم څه دی؟

جواب: دریح دایامو په دوره کی په وخت کی یوځل اودس کول کافی دی په همدغه اودس سره په تمام وخت کی فرض، سنن اونوافل ادا کول جائز دی ([3]). فقط

دمعذور شرعی تعریف څه دی؟ سوال: (۳۷۴) دمعذور شرعی چاته چی په وقتیه اودس سره دلمونځ وغیره کولو اجازت نسته دهغه مفتٰی به تعریف څه دی؟ زما ریح جاری دی چی اوس تقریباً هیڅ یو لمونځ بغیر ددې څخه نه تیریږی، ایا زما دپاره یوځل اودس کول دهر وخت دپاره کافی دی اوکه نه؟

جواب: معذور شرعی ابتداءً هغه وخت کیږی چی دلمانځه په تمام وخت کی هیڅ وخت داسی ده ته پیدانه سی چی اودس وکړی اولمونځ بغیر ددغه عذر شرعی څخه ادا کړل

([1]) وحکمه الوضوء لکل فرض ای لوقت کل صلوة الخ ثم یصلي به فیه فرضا ونفلا فدخل الواجب بالأولی فاذا خرج الوقت بطل (الدرالمختار) افاد ان الوضوء إنما یبطل بخروج الوقت فقط لا بدخوله (رد المحتار احکام المعذور ص۲۸۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵ - ۳۰۷). ظفیر

([2]) فالوضوء لمطلق الذکر مندوب وترکه خلاف الأولی وهو مرجع کراهة التنزیه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ج۹ ص۱۲۱، ط.س. ج۱ ص۱۷۵). ظفیر

([3]) وصاحب عذر من به سلسل البول ولایمکنه امساکه او استطلاق بطن او انفلات ریح الخ إن إستوعب عذره تمام وقت مفروضة بان لایجد فی جمیع وقتها زمنا یتوضأ ویصلي فیه خالیا عن الحدث ولو حکما لأن الإنقطاع الیسر ملحق بالعدم الخ وحکمه الوضوء الخ لکل فرض ای لوقت کل صلاة ثم یصلي به فیه فرضا ونفلا فدخل الواجب بالأولی فإذا خرج الوقت بطل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار أحکام المعذور ص۲۸۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵). ظفیر

سی: بان لا یجد في جمیع وقتها زمناً یتوضأ ویصلي فیه خالیا عن الحدیث الخ وهذا شرط العذر في حق الابتداء وفي حق البقاء کفی وجوده في جزء من الوقت ولو مرة وفي حق الزوال یشترط استیعاب الانقطاع تمام الوقت الخ. درمختار ، نو که چیري یوځل هم تعریف مذکوره پر هغه باندی صادق سی نوهغه معذور دی بیا ترهغه وخته پوری به معذور اوسی ترڅو پوری چی هغه عذر بالکل منقطع نه سی، نو داسی معذور لره په وخت کی یوځل اودس کول کافی دی په ټول وخت کی په دغه عذر سره لمونځ کولی سی اوبیابه په خروج دوخت سره به اودس دهغه باطل سی. ([1]) فقط

چی په احلیل کی دمرض دوجه څخه کرسف کښیږدی اوهغه لوند سی نوڅه حکم دی؟

سوال: (**۳۷۵**) زیدته دسلسل البول مرض دی دهغه په وجه سره هغه داحلیل په سرکی کرسف اږدی اوکرسف په سوری کی دومره دننه وی چی ددباندي څخه په نظر نه راځی په داسی صورت کی به دزید دلمونځ په وخت کی اودس کوی اوکه کم وخت چی قطره دکرسف څخه تجاوز وکړی او دباندي راسی هغه وخت نوی اودس وکړی اوهغه بغیر داودس څخه تلاوت کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی کم وخت چی قطره دکرسف څخه تجاوز وکړی او دباندي راووزی نوهغه وخت به اودس مات سی، ([2]) او دمسي دمصحف دپاره اودس شرط دی او دپه یاد لوستلو دپاره اودس شرط نه دی ([3]). فقط

الباب السابع فی الانجاس وتطهیرها

اول فصل : نجاستونه او دهغوی څخه پاکوالی

که پرجامو باندی شراب ولګیږی نو پاکیدی سی اوکه نه؟ **سوال**: (**۳۷۶**) چی پرجامه باندی شراب ولګیږی نوهغه پاکیدی سی اوکه نه؟

جواب: شراب که چیري پرجامو ولګیږی نودنورو نجاساتو په ډول په پریمنځلو پاکیدی سی. فقط (یجوز رفع نجاسة حقیقة عن محلها بماء ولو مستعملا وبکل مائع طاهر قالع الخ، تنویر علی هامش الشامی ص۳۱۷. جمیل الرحمٰن).

([1]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار احکام المعذور ج۱ ص۲۸۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵. ظفیر

([2]) لو حشا إحلیله بقطنة وابتل الطرف الظاهر هذا لو کان القنطة عالیة او محاذیة لرأس الإحلیل وإن متسفلة عنه لاینقض وکذا الحکم فی الدبر والفرج الداخل وإن إبتل الطرف الداخل لاینقض (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطهارة نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۸، ط.س. ج۱ ص۱۳۸). ظفیر

([3]) لا تحل قراءة القران للجنب (درمختار) قید بالجنب لأن قراءة المحدث تحل بدون الطهارة (رد المحتار باب التیمم ص۲۲۹ ج ۱) ولا تکره قراءة القرآن للحدث ظاهرا ای علی ظهر لسانه بالإجماع (غنیة المستملي ص ۵۷ – ۵۸). ظ

دسائیس (دمشرکانو یو قوم) جامي استعمالول جائز دي اوکه نه؟ سوال: (۳۷۷) دسائیس قوم یودماتیو اومنګیو جوړوونکی دی دهغه ماتې یومسلمان پریمنځی او بیا کار ورڅخه اخلي ددې استعمالول جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دې کی هیڅ حرج نسته هغه ماتې او اوبه پاکی دی. ([1]) فقط

دچیمار (دمشرکانو یو قوم) دکور غوړی استعمالول جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۳۷۸\۱) دچیمار دکور غوړی که په بیعه واخلی او استعمال یې کړی نودا پاك اوجائز دی اوکه نه؟

په ژیړو غوړو کی چې مږه مږه سی نوهغه پاکیدې سی اوکه نه؟ سوال: (۳۷۹\۲) که چیري په ژیړو غوړو کی یو حیوان لکه مږه وغیره ولویږي او مړه سی نو هغه پاکیدلی سی او که نه؟

که چیري خاورین لوښی ناپاکه سی نو څرنګه پاکیدی سی؟ سوال: (۳۸۰\۳) که چیري دخاوری یا دقاروری یعني ښیښې لوښی ناپاکه سی نوهغه به څرنګه پاکیدلی سی؟

جواب: ۱: احتیاط دادی چی نه دي اخلی اوکه چیري یی واخیستی اواستعمال یی کړی نوصحیح دی اوپاك به ګڼل کیږی چی ترڅو پوری نجاست په هغه کی معلوم نه سی. ([2]) فقط

۲: دهغه دپاکیدلو صورت یی دالیکلی دی چی په هغه کی دي اوبه واچوی اودری ځلی دي هغه اوبه وسوځوی او اوبه دي هرځل ددغو غوړو برابر اچوی ([3]).

۳: ددری ځلی په پریمنځلو سره به هغه پاك سی که چیري په هغه کی قاروره هم وی نو بیابه هم ددری ځلی په پریمنځلو سره پاك سی، بهتره داده چی په خاوری وغیره سره دي هغه صفا کړی او ودی مینځی. ([4])

ګنده تالاب چی دباران په زمانه کی ډک سی نوهغه پاک دی او که ناپاک؟ سوال: (۳۸۱) یو

([1]) قال محمد ﷺ ویکره الأکل والشرب فی أواني المشرکین قبل الغسل ومع هذا لو أکل اوشرب فیها قبل الغسل جاز الخ (عالمګیري مصري کتاب الکراهیة باب رابع عشر ص۳۵۸ ج۵، ط. ماجدیة ج۵ ص۳۷۸). ظفیر

([2]) ولو شك فی نجاسة ماء اوثوب الخ لم یعتبر (درمختار) فی التاتارخانیة من شك فی إنائه او ثوبه او بدنه اصابته نجاسة اولا فهو طاهر ما لم یستیقن الخ وکذا ما اتخذه اهل الشرك او الجهلة من المسلمین کالسمن والخبز والأطعمة والثیاب (ردالمحتار قبیل ابحاث الغسل ص۱۴۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۰). ظفیر

([3]) لأن الاخذ بما هو الوثیقة فی موضع الشك أفضل إذا لم یؤد الی الحرج ومن هذا قالوا لا باس بلبس ثیاب اهل الذمة والصلوة فیها إلی قوله وتجوز لأن الأصل الطهارة وللتوارث بین المسلمین فی الصلوة بثیاب الغنائم قبل الغسل (شامي ص۲۱۲ ج۱). ظفیر

([4]) ویطهر لبن وعسل ودبس ودهن یغلي ثلاثا (درمختار کتاب الأنجاس، ط.س. ج۱ ص۳۳۴). ظفیر

تالاب دابادی سره دپیوست کیدو په وجه گنده او مردار وی دباران کیدلو څخه وروسته هغه داوبو څخه ډك سو، نوهغه پاك دی اوکه نه؟

جواب: که چیري دپلیتی دلویدلو په وجه سره په هغه کی بدبوئی نه وی نوهغه پاك دی، دلس په لس کي په کیدلو باندی به هغه پاك وی مگر هغه وخت چي تغیر داوصافو دهغه په سبب دنجاست سره نه وی. (وعن أبي يوسف رحمه الله أن الغدير العظيم كالجاري لا يتنجس إلا بالتغير الى قوله: إذا كان الماء بحيث يخلص بعضه إلى بعض بأن تصل النجاسة من الجزء المستعمل إلى الجانب الآخر فهو قليل وإلا فكثير قال أبو سليمان الجوزجاني أن كان عشرا في عشر فهو مما لا يخلص وبه اخذ عامة مشايخنا (١) عالمگیری ج١ ص١٧، جميل الرحمٰن). فقط

په معجوناتو او په افاعي ترياقو کی آيا تبديل دماهيت نه کيږی؟ سوال: (۳۸۲\۱) صابون دنجسي وازگي څخه جوړ سويدی دا از روی کتاب پاك دی او ددی وجه يی تبديل دماهيت بيان کړی ده، که چيري داتبديل دماهيت يی داسي وي نو په جمله معجونات او ترياق الافاعی کی خوهم تبديل کيږی ولی چی صورت اوخاصيت دواړه يې جدا او مختلف سی؟

ددرياب دځناور متيازی پاکی دی اوکه نه؟ سوال: (۳۸۳\۲) ددريابي حيوان متيازی پاکی دی اوکه نه؟

جواب: ۱: داخو دفقهی په کتابونوکی تصريح ده چی داعلت په صابون کی تغير اوانقلاب دعين دی نوچی په کم ځای کی داعلت وليدل سی نوحکم دطهارت به ورکول کيږي خوپه معجوناتو اوترياق الافاعی کی دا انقلاب په ظاهره حاصل نه دی، خو په معجوناتو وغيره کی که چيري دا انقلاب مسلم سی نو دابه داسی وی لکه څنگه چی په (دبس مطبوخ اذا كان زبيبه متنجسا) کی دبعضو خيال سوی دی، خوشامی په دي کی بحث کړيدی او دانقلابِ عين دحکم څخه يی خارج کړيدی هسی خوپه هريوه مرکب کی خاصيت اواثر جدا پيدا کيږی، خوهغه ته به انقلاب دعين نه ويل کيږی. (٢) فقط

۲: ددريابي ځناورو متيازی پاکی دی لکه څنگه چی دمائی المولد په تشريح کی دفقهی کتابونو ددرمختار وغيره څخه معلوميږی: فلو تفتت فيه نحو ضفدع جاز الوضوء به لا شربه، (٣) او ددي څخه مخکی دی: ومائی مولد ولو كلب الماء وخنزيره كسمك وسرطان

---

(١) يجوز رفع نجاسة حقيقة عن محلها ولو إناء الخ (درمختار باب الأنجاس، ط.س. ج١ ص٣٠٩). جميل الرحمن

(٢) فيقال كذلك في الدبس المطبوخ إذا كان زبيبه متنجسا الخ قلت لكن قد يقال ان الدبس ليس فيه إنقلاب حقيقة لأنه عصير جمد بالطبخ الخ (رد المحتارص٢٩١ ج١، ط.س. ج١ ص٣١٢ تحت ويطهر زيت بالأنجاس). ظفير =

وضفدع الخ. درمختار. (۱) والله تعالى اعلم

دانګريزي دوايي استعمال جائز دي اوکه نه؟ سوال: (۳۸۴) دامو اوريدلى دى چى په انګريزى دوايانو کى شراب استعماليږى، نو دانګريزى دوايانو استعمال جائز دى اوکه نه؟

جواب: دانګريزى دوايانو استعمال على العموم ناجائز نه دى که چيري په يوه دوايى کى دشرابو وغيره موجودوالى معلوم سي نو دهغى دوايى استعمال به ناجائز سى (۲) باقى په شك اوشبهى سره هيڅ يوشى نه ناپاکه کيږى. (۳) فقط

ناپاکه جامه ددوبى په پريمينځلو سره پاکيږي اوکه نه؟ سوال: (۳۸۵) که چيرى ناپاکه جامه دوبى ته دپريمنځلو دپاره ورکړله سى نوپاکه به سى اوکه نه؟

جواب: پاکه به سى. (۴) فقط

درنګريز او مل لخوا په رنګ سوي جامه کى لمونځ جائز دى اوکه نه؟ اوپه خاورى او ايرو سره جامه رنګول څنګه دي؟ سوال: (۳۸۶) درنګريز په رنګ سره کپړه رنګوى نوپه دغه سره لمونځ صحيح دى اوکه نه؟ او دلايت څخه چى کمى رنګ سوى جامى راځى په هغوى کى لمونځ کول اوخارجًا دهغوى استعمال صحيح دى اوکه نه؟ اوپه خاورى اوايرو سره جامه رنګول جائز اوپاك دى اوکه نه؟

جواب: دعموم بلوٰى په وجه سره اوبل په دى وجه سره چى دشرابو موجودوالى په دغه رنګونو کى يقينى نه دى لمونځ په هغه جامو کي چى په دى رنګ باندى رنګ سوى وى صحيح دى دغه ډول په رنګينو جامو لکه چهيټ وغيره سره کمى چى دولايت څخه رنګ سوى راځى لمونځ صحيح دى اوپه لمانځه کى اويا دلمانځه څخه خارج دهغى اغوستل صحيح دى (۵) اوپه خاوره اوايرو سره هم جامه رنګول جائز اوپاك دى. فقط

منى پاک دي اوکه ناپاکه؟ سوال: (۳۸۷\۱) منى په اکسير هدايت کى پاك تحرير فرمايى، نوکه چيري پاك وى نودجماع څخه وروسته دغسل کول ولى واجب سوه؟

---

(۳) الدر المختار على هامش ردالمحتار ص۱۷۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۹۵. ظفير

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۱۷۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۸۵. ظفير

(۲) به يعلم ان ما يستقطر من دردى الخمر ونحو المسمى بالعرقى فى ولايات الروم نجس حرام كسائر اصناف الخمر (رد المحتار باب الأنجاس مطلب العرقي الذي يستقطر ص۳۰۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۲۵). ظفير

(۳) اليقين لا يزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵). ظفير

(۴) وإزالتها إن كانت مرئية بازالة عينها واثرها إن كانت شيئا يزول أثره (إلى قوله) وإن كانت غير مرئية يغسلها ثلاث مرات الخ (عالمگيري كشوري ص۴۰ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۴۱). ظفير

(۵) اليقين لا يزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵). ظفير

دهندو دلاس پخه سوی ډوډی خوړل صحیح دی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۸۸\۲) دهندو دلاس پخه سوی ډوډی یا دهغه دکور پخه سوی ډوډی خوړل صحیح دی اوکه نه؟

جواب: ۱: داحنافو په نزد منی ناپاك دي (۱). امام غزالی رحمہ اللہ شافعی المذهب دی ځکه هغوی داسی لیکلي دی چی دغسل دواجب کیدلو وجه هغه ارشاد دجناب باری تعالی شانه اوارشاد دجناب دسول الله ﷺ (۲) دی. فقط

۲: صحیح دی (۳). فقط

دمار او دمږی څرمنی ته ددباغت څخه وروسته پاکه ولی نه ویل کیږی؟ **سوال**: (۳۸۹\۱) په بهشتی زیور کی یی لیکلي دی چی دمار اودمږی او دخنزیر څرمنی ددباغت څخه وروسته نه پاکیږی، اونوری ټولی څرمنی پاکیږی حالانکه دفقهی په کتابونو کی دی: ویطهر الجلد بالدباغة الا الخنزیر والادمی، نو دمږی څرمن خوپر دغه بناء باندی پاکیدل په کاردی، وجه یې څه ده ؟

دناپاکه تیلو صابون پاک دی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۹۰\۲) په بهشتی گوهر کی یی لیکل دی چی دناپاکه تیلو څخه که چیري صابون جوړ کړل سی نوپاك دی داصحیح دی اوکه نه؟

جواب: ۱: دبهشتی زیور مرقومه مسئله صحیح ده اودفقهی دکتابونو دعبارت: کل اهاب اذا دبغ فقد طهر الخ منافی نه ده ځکه چی دا امر خوظاهر دی چی په دباغت سره ټولی څرمنی ماسوا دانسان اودخنزیر څخه پاکیږی، پاته سوه دمار او دمږی څرمن نو په دباغت سره دنه پاکیدو مطلب یې دادی چی په دوی کی په سبب دصغر سره دباغت ممکن نه دی: قال فی الدرالمختار وما لا یحتملها فلا وعلیه فلا یطهر جلد حیة صغیرة وفارة الخ (۴) یعنی کله چی ددباغت اثر حقیقی او حکمی په وجه دصغر نه قبلوی نوپاك نه سول، نو دکوچنی مار اودمږی څرمن به ناپاکه وی.

۲: دا مسئله ددرمختار جلد اول ص۲۱۰ مطبوعه مجتبائی کی په دی عبارت مذکوره ده: ویطهر زیت تنجس بجعله صابونا الخ او وجه ددی دپاکیدلو هغه انقلاب عین دی په شامی کی ترهمدی قول لاندی مذکور دی: وعلیه یتفرع ما لو وقع انسان او کلب فی الصابون فصار صابونًا یکون طاهراً لتبدل الحقیقة.(۵) فقط

---

(۱) ونجاسة المنی عندنا مغلظة سراج (ردالمحتار ص۲۸۹ ج۱ باب الأنجاس ، ط.س. ج۱ ص۳۱۳). ظفیر

(۲) قال رسول الله ﷺ فی المذی الوضوء وفی المنی الغسل رواه احمد (آثار السنن ج۱ ص۲۵). ظفیر

(۳) قال محمد رحمہ اللہ ویکره الأكل والشرب فی أوانی المشرکین قبل الغسل ومع هذا لو اکل او شرب فیها قبل الغسل جاز الخ (عالمگیري مصري ج۵ ص۲۵۸، ط. ماجدية ج۱ ص۳۴۷). ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ص۱۸۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۰۳. ظفیر　=

غساله يعني هغه اوبه چي نجاست په پرېمينځل سوي وي که چيري ولګيږي نو هغه سی به پاک وي اوکه نه؟ سوال: (۳۹۱) که چيري پربدن ياجامه نجاست غير مريئه ولګيږی اودوچيدلو څخه وروسته هغه پريمينځل سی، نوکه دغه غساله پر بل ځای باندی ولګيږی نوهغه ځای به پليت سی اوکه نه؟ که چيري نجس وی نو دمخکی ځای په ډول هغه دری ځله پريمنځل واجب دی اوکه نه صرف په اوبو بهيدلو سره به پاك سی؟

جواب: ظاهره ده چی هغه غساله دنجاست پليته ده (۱) دهغی پاکول هم ضروري دي او هغه به هم په اوبو باندي تر مينځلو وروسته پاکيږي. (۲) فقط

دنجاست په پريمينځلو کی مُږل شرط دی اوکه نه؟ سوال: (۳۹۲) دبدن دنجاست دپرېوللو په اړه چي درې واره مينځل په کتابونو کی راغلی دی په هغه پريمنځلو کی موږل دهغه ځای هم شرط دی اوکه نه محض اوبه اچول کافی دی؟

جواب: پرکم ځای باندی چی نجاست لګيدلی وی دهغه ازاله ضروری ده که هغه په مږلو سره وی يا په هررنګه چی وی دهغی ليری کول او پاکول ضروری دی. (۳) فقط

که چيري دمتيازو څاڅکي پرجامه باندي پريوزي نوپه هغه جامي سره به لمونځ جائز وي اوکه نه؟ سوال: (۱\۳۹۳) ديوچا عمر شپيته ۲۰ کاله دی چی په متيازو کی يی عجلت وی په دی وجه اکثره وخت په متيازو کولوکی ورڅخه داسی څاڅکی پر پايڅو باندی پريوزی کم چی معلوميږی نه نو ددغه جامی سره دلمانځه کول جائز دی اوکه نه؟

چی بدن ته دجامی نجاست ولګيږی نو دهغه پريمنځل به ضروری وی اوکه نه؟ سوال: (۲\۳۹۴) کله ناکله متيازی هسي توی سي او پرتوګ باندی لوند سی دهغه نموالی پر بدن پوری محسوسيږی نو دبدن دپريمنځلو ضرورت سته اوکه نه؟ اوکه چيري په همدی حالت کی يی دبلی جامی سره لمونځ ادا کړی، نو ددی لمانځه اعاده ضروری ده اوکه نه؟

جواب: ۱: داسی نری څاڅکی چی نه معلوميږی معاف دی دهغه سره جامه اوبدن ناپاکه کيږی نه او دداسی جامی سره لمونځ صحيح دی. (۴) فقط

---

(۵) ردالمحتار باب الانجاس ج۱ ص۲۹۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۵. ظفير

(۱) وماء ورد على النجس كعكسه (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۱ ص۳۵۵ باب الأنجاس، ط.س. ج۱ ص۳۲۵). ظفير

(۲) ويطهر كل نجاسة مرئية بقلعها الخ ويطهر غيرها اى غير مرئية بغلبة ظن غاسل الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۵، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفير

(۳) يجوز رفع نجاسة حقيقية عن محلها بماء ولو مستعملة وبكل ماء طاهر قالع الخ ويطهر منى أى محله يابس بفرك وإلا فيغسل بلا فرق بين منيه ومنيها ولا بين ثوب وبدن على الظاهر، مختصرا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ص۲۸۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۹). ظفير　=

۲: که چیري په پرتوګ کی ورڅخه متیازی وسی او پرتوګ لوند سی اوبیا دهغه پرتوګ لوندوالی دبدن سره ولګیږی نو که چیري په مقدار ددرهم یا ددرهم څخه په زیات ځای کی لګیدلی وی نو دبدن پریمنځل ضروری دی، اوکه چیري بغیر دپریمنځلو دبدن څخه یی دبلی جامی سره لمونځ وکی نو ددغه لمونځ اعاده ضروری ده. ([1]) درمختار اوشامی. فقط

دمذي او دودي پيژندل څه دي اودا کم نوعه نجاست دي؟ سوال: (۳۹۵) دمذی او دودی شناخت څه دی؟ او مذی او ودی نجاست غلیظه دی اوکه خفیفه؟

جواب: په در المختار کی دمذی په تعریف کی دی چی: ماء رقیق ابیض یخرج عند الشهوة لا بها الخ ([2]) او دودی په تعریف کی دی چی: ماء ثخین ابیض کدر یخرج عقب البول، نهر ([3]) نومعلومه سوه چی مذی سپینی نرمی اوبه دی چی دشهوت په وخت کي وزی مګر په شهوت سره نه وزی، او ودی ترتشو متیازو وروسته وزی، اودا دواړه مذی او ودی نجاست غلیظه دی. لکه چی په درمختار کی دنجاست غلیظه په بیان کی دي: وکذا کل مایخرج منه موجبًا لوضوء او غسل مغلظ الخ. ([4])

دحيض او دنفاس سپينوالي که ولګيږي نوهغه به پاک وي اوکه نه؟ سوال: (۱\۳۹۶) دحیض او دنفاس دفارغیدلو څخه وروسته چی کم سپینوالی راځی هغه که چیري پربدن یاجامه باندی ولګیږی نوبدن اوجامه به پاك پاته سی اوکه نه؟

دزخم رطوبت دبهيدلو څخه بغير دجامي سره ولګيدي نوڅه حکم دي؟ سوال: (۲\۳۹۷) که چیري څه نجاست مثلاً وینه زوی وغیره دجامی سره ولګیږی خو ددرهم دمقدار څخه کم ولګیږی په داسی طریقی سره چی هغه لا دزخم دخولی څخه په جلا کیدلو اوبهیدلو سره هم نه دی وتلی خوفوراً پرپرتوګ ولګیدل اوبیا داوبو په لویدلوسره ددرهم دمقدار برابر

([4]) وعفی الخ بول إنتضح کرؤس إبر وکذا جانبها الأخر وإن کثر باصابة الماء للضرورة (درمختار) عن الکرماني إن هذا ما لم یر علی الثوب وإلا وجب غسله إذا صار بالجمع اکثر من قدر الدرهم (ردالمحتار ج۱ ص۲۹۷، ط.س. ج۱ ۳۳۱ - ۳۳۲ باب الأنجاس). ظفیر

([1]) وقدر الدرهم من النجس المغلظ کالدم والبول الخ جازت الصلوة معه وان زاد لم تجز (هدایه ج۱ ص۷۱) ونهی الشارع من قدر درهم وان کره تحریما فیجب غسله ومادونه تنزیها فیسن وفوقه مبطل فیفرض والعبرة لوقت الصلوة لا الإصابة علی الأکثر. نهر (درمختار) ففی المحیط یکره أن یصلي ومعه قدر درهم اودونه من النجاسة عالما به لأختلاف الناس فیه قادرا علی إزالته وحدیث تعاد الصلوة عن قدر درهم من الدم لم یثبت ولو ثبت حمل علی استحباب الإعادة الخ (ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۲۹۱ - ۲۹۲، ط.س. ج۱ ص۳۱۲). ظفیر

([2]) رد المحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۵۳، ط.س. ج۱ ص۱۶۵. ظفیر

([3]) رد المحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۵۳، ط.س. ج۱ ص۱۶۵. ظفیر

([4]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ص۲۹۳ ج۱. ظفیر

یا دهغه څخه زیات سوه نو دغه جامه پاکه ده اوکه نه؟ اوبدن هم پاك دی اوکه نه؟

جواب: ۱: هغه لوندوالی چي دفرج خارج څخه وتلی وي پاك دی: واما رطوبة الفرج الخارج فطاهرة اتفاقا [۱]. درمختار او رطوبت دفرج داخل ناپاکه دی: ومن وراء باطن الفرج فانه نجس قطعًا. شامی [۲] باب الانجاس ص۳۲۲، نوکه چیري هغه سپینی اوبه دننه څخه راغلی وی نو هغه ناپاکی دی که چیري ددرهم دقدر څخه زیاتی پر بدن یا په جامی پوری ولـګیږی نو پریمنځل یی په کار دی.

۲: کم زوي چی دزخم دباندي نه وي هغه ناپاکه نه دی، که چیري پرجامی یا بدن ولـګیږی اګر چی ددرهم څخه زیات وی جامه اوبدن نه ناپاکه کوی هغه که چیري داوبو په توئیدلو سره زیات هم سی نوهیڅ حرج نسته لکه څنګه چی په درمختار کی دی: وکل ما لیس بحدث لیس بنجس الخ [۳] اونجاست که چیري ددرهم څخه کم وی اوپر جامه یابدن ولـګیږی اوداوبو په لـګیدلو سره زیات سی نوهغه مانع عن الصلوة نه دی: کما فی الشامی وان کثر باصابة الماء الخ. [۴]

دانسان ناړی پاکی دي: سوال: (۳۹۸) دبنی ادم دخولی څخه چی کمی ناړی راوزی هغه پاکی دی اوکه نه؟

جواب: دخولی څخه چی کمی ناړی راځی هغه پاکی دی: کماء فم النائم فانه طاهر مطلقا وبه یفتٰی بخلاف فم المیت فانه نجس الخ. [۵]

سپی نجس العین دی اوکه نه؟ او ددغه څه حکم دی؟ سوال: (۳۹۹) کلب نجس العین دی اوکه نه؟ که چیري نجس العین نه وی نوپه کومو عبارتونوکی اودکومو روایاتو څخه چی نجس العین کیدل دسپی معلومیږی، او داچی که چیري دسپی پاته اوبه (پسخورده) دپاك بدن سره ولـګیږی نوهغه اوبه هم ناپاکه سوی، ددی به څه معنٰی وی؟

جواب: صحیح خبره همداده چی سپی نجس العین نه دی، اودکومو روایاتو څخه چی دا معلومیږی چی نجس العین دی او کمی اوبه چی دهغه دبدن سره ولـګیږی یا ورڅخه پاته

---

(۱) ردالمحتار باب الأنجاس ص۲۸۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۳۱۳. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الأنجاس ص۲۸۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۳۱۳. ظفیر

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطهارة ص۱۳۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۴۰. ظفیر

(۴) ردالمحتار باب الأنجاس ص۲۹۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۳۳۸. ظفیر

(۵) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار نواقض وضوء ج۱ ص ۱۲۸ قبیل مطلب فی حکم کی الحمصة، لعاب النائم طاهر سواء کان من الفم او منبعثا من الجوف عند ابي حنیفة ومحمد رحمهما الله وعلیه الفتوی وأما لعاب المیت فقد قیل انه نجس هکذا فی السراج الوهاج (عالمگیری مصري باب فی النجاسة فصل ثاني ص۴۳ ج۱، ط. ماجدیة ج۱ ص۴۶). ظفیر

سي هغه ناپاکه دی نودا قول ضعیف دی مفتی به نه دی، او احتیاط بیله خبره ده، خو په اعتبار داصح اومفتٰی به قول هغه اوبه ناپاکه نه دی او دلائل دفقهی دکتابونو خو تاسو ته په خپله معلوم دی. (١) فقط

دمنیو دپریمنځلو څخه وروسته چی کم داغ پاته سی دهغه سره به لمونځ کیری اوکه نه؟

سوال: (۴۰۰) داحتلام څخه وروسته که چیري جامه پریمنځی اوپر هغی باندی داغ لګیدلی پاته سی نوآیا لمونځ به وسی؟

جواب: په دی صورت کی به لمونځ وسی. (٢) فقط

کم شی چی په متیازو کی پوخ سی هغه پاک دی اوکه ناپاکه؟ سوال: (۴۰۱) که چیري یوشی په متیازو کی پوخ کړل سی اوهغه دومره وایشول سی چی متیازی باقی پاته نه سی نوهغه شی به پاك سی اوکه نه؟

جواب: هغه شی به هیڅ پاك نه سی: کما في الشامي وفي الخانية اذا صب الطباخ في القدر مکان الخل خمرا غلطاً فالکل نجس لا يطهر ابداً وما روی عن ابي يوسف انه يغلي ثلاثا لا يؤخذ به وکذا الحنطة اذا طبخت في الخمر لا تطهر ابداً الخ. (٣)

لوی تالاب په کم کی چی حیوانان درول کیږي دهغه اوبه پاکی دی اوکه ناپاکی؟ سوال: (۴۰۲) یو تالاب چی دکلی پر کناره باندی دی چی په هغه کي اوبه دبستی زیات تره راځی حیوانان وغیره په کثرت سره په هغه کی درول کیږي غرض داچی دصفائی انتظام نه کیږي، نو دداسی تالاب اوبه پاکی دی اوکه نه؟

جواب: پاکی دی (۴).

---

(١) واعلم انه ليس الکلب بنجس العين عند الإمام وعليه الفتوی وان رجح بعضهم النجاسة فيباع ويؤجر ويضمن ويتخذ جلده مصلی ودلوا ولو اخرج حيا ولم يصب فمه الماء لا يفسد ماء البئر ولا الثوب بانتفاضته الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المياه ج١ ص١٩٢) قوله: وعليه الفتوی وهو الصحيح والأقرب إلی الصواب بدائع وهو ظاهر المتون بحر ومقتضی عموم الأدلة فتح، قوله: ولا الثوب بانتفاضه الخ وما فی الولوالجية وغيرها إذا اخرج الکلب من الماء وانتفض فأصاب ثوب إنسان افسده لا لو أصابه ماء المطر لأن المبتل فی الأول جلده وهو نجس وفی الثاني شعره وهو طاهر اهـ فهو علی القول بنجاسة عينه کما فی البحر (رد المحتار باب المياه ص١٩٢ ج١، ط.س. ج١ ص٢٠٨). ظفير

(٢) وکذا يطهر محل نجاسة مرئية بعد جفاف کدم بقلعها ای بزوال عينها وأثرها الخ ولا يضر بقاء اثر کلون وريح لازم فلا يکلف فی إزالته إلی ماء حار او صابون ونحوه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ص٣٠٣ ج١، ط.س. ج١ ص٣٢٨). ظفير

(٣) رد المحتار باب تطهير الأنجاس مطلب فی تطهر الدهن والغسل ج١ ص٣٠٩، ط.س. ج١ ص٣٣٤. ظفير

(۴) الغدير العظيم الذي لايتحرك أحد طرفيه بتحريك الآخر إذا وقعت نجاسة فی احد جانبيه جاز الوضوء من الجانب الآخر (هدايه ج١ ص۴١ باب المياه). ظفير

دمتیازو قطري چې پرجامې باندې ولګیږي نوځه باید وکړل سی؟ سوال: (۴۰۳) دمرض په وجه دمتیازو قطري اکثره پر جامه باندی لګیږي په هروخت پاکولو کی دقت وی نوځه وکړي؟

جواب: کله چی دناپاکی مقدار ددرهم دمقدار ځخه زیات سی نوجامه دي پریمنځی اوپاکه دي کړي اولمونځ دی وکړي (۱). فقط

ددوبي دکورکلف سوی جامه پاکه ده اوکه ناپاکه؟ سوال: (۴۰۴) مولوی عبدالحی صاحب لیکلی دی چی دهندو دوبي په ځای کی پریمنځل سوی جامه پاکه ده که چیري هندو دوبي دخپل کور کلف یعنی خمبیر پوخ کړي اوجاموته یې ولګوی نوپه دی صورت کی به هم جامه پاکه وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی هم جامه پاکه (۲) ده. فقط

دپوړي په رنګ سره په رنګ سوو جاموکی لمونځ جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۳۰۵) دپوړي په رنګ سره په رنګ سوو جامو سره لمونځ کول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: ترڅو پوری چی ځه امر یقینی معلوم نه وی نودشك په وجه سره به حرمت اونجاست نه ثابتیږي (۳) بناءً علیه لمونځ کول دپوړي په رنګ سوو جامو کی صحیح دی اوعموم بلوٰی ددې ځخه علاوه ده، خو ددې هرڅه سره سره احتیاط کول ښه دی. فقط

داوسپنی لوښی چی ناپاکه سی نوهغه به ځرنګه پاکیږي؟ سوال: (۴۰۲) که چیري داوسپنی لوښی ناپاکه سی نو په پریمنځلو سره به پاك سی اوکه نه دقلعي (دپښ په واسطه دپاکولو) ضرورت یې دی؟

جواب: په پریمنځلو سره پاکیږي او دقلعی کیدلو ضرورت یې نسته (۴). فقط

---

(۱) وقدر الدرهم ومادونه من النجس المغلظ كالدم والبول الخ جازت الصلوة معه وإن زاد لم تجز (هدايه باب الأنجاس ص۷۱ ج۱). ظفير

(۲) اليقين لا يزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵) تر خو چی په ناپاکي باندي يقين نه وي راغلی نوپاکي دي: ولو شك في نجاسة ماء او ثوب او طلاق اوعتق لم يعتبر وتمامه في الأشباه (درمختار) من شك في إنائه او ثوبه او بدنه أصابته نجاسة اولا فهو طاهر ما لم يستيقن وكذا الآبار والحياض والحباب المرفوعات في الطرقات ويستقى منها الصغار والكبار والمسلمون والكفار (رد المحتار قبيل أبحاث الغسل ج۱ ص۱۴۰، ط.س. ج۱ ص۱۵۱). ظفير

(۳) اليقين لا يزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵) ولو شك في نجاسة ماء او ثوب إلخ لم يعتبر (درمختار) في التاتارخانيه من شك في إنائه او ثوبه او بدنه أصابته نجاسة اولا فهو طاهر ما لم يستيقن الخ وكذا ما يتخذه أهل الشرك، او الجهلة من المسلمين كالسمن والخبز والأطعمة والثياب آه ملخصا (رد المحتار قبيل أبحاث الغسل ج۱ ص۱۴۰، ط.س. ج۱ ص۱۵۱). ظفير

(۴) والنجاسة ضربان مرئية وغير مرئية فما كان منها مرئية فطهارتها بزوال عينها لأن النجاسة حلت المحل =

کومه ګانې او یا بل دې ته ورته ځاې چې سپې وغیره څټې نو په هغه جوړه سوې ګوړه پاکه ده اوکه ناپاکه؟ **سوال**: (۴۰۷) په کمه ګانې کی چې دګنیو شربت ایستل کیږي اوپه کومو لوښو کی چې مټایي جوړیږي دغه ټول لوښي سپي څټي نودا ګوړه اونور پاك دي اوکه ناپاکه؟

جواب: دقواعدو شرعیه ؤ سره هغه ګوړه وغیره پاکه ده اوخوړل دهغې صحیح دی ([1]). فقط

داهل کتاب لوښي پاک دي اوکه ناپاکه؟ او دهغوی سره خوراک څیښاک څنګه دي؟ **سوال**: (۴۰۸) یوه ډله وایي چې نصارٰی اهل کتاب دی دهغوی سره اکل اوشرب جائز دی اویو ددی برخلاف دی چې دنصارٰی ؤ دخوراك لوښي اوچیلم وغیره په هیڅ ډول نه سي پاکیدلی، ددې مسئلې جواب مفصل مرحمت وفرمایاست؟

جواب: نصارٰی په اصل کی اهل کتاب دی باقی داچي هغوی پابندی دخپل دین کوی اوکه یې نه کوي دابیله خبره ده او چونکه هغوی دمحرماتو شرعیه او دنجسو اشیاؤ استعمال کوی لکه شراب اوخنزیر، ددی وجه دهغوی په لوښی کی دهغوی سره خوراك نه دی په کار، اودا خبره چې پسخورده دنصاری ؤ په هیڅ ډول پاکیدلی نه سی غلطه ده هریو ناپاکه شی لوښی وغیره پاکیدی سی او دنصارٰی ؤ مستعمل چیلم پاك دی اوپه دی کی دوهم کولو حاجت نه سته. فقط

خنزیر حلال سو دهغه دنجاست دپرېمینځلو په وخت کی اوبه پرتختو باندی پریوتی نوهغه څنګه پاکیږي؟ **سوال**: (۴۰۹) یو مجوسي په یو مارکیټ کی په کم کی چې غوښه خرڅیږی خنزیر حلال کی اوهم هلته یې صفا کی، مارکیټ دسرکار په حکم روزانه پریمنځل کیږی، نوچې هغه کله پریمنځل سو نوهم هغه اوبه ټولی دلرګی پرتختو باندی هم پریوتی اوپه همدغه تختو باندی غوښه هم خرڅیږی لهذا دصفایي کمه طریقه باید اختیار کړل سی چې دخلګو شك رفع سی؟

جواب: په شامی کی دذخیری څخه منقول دی چې: لو اصابت الارض نجاسة فصب علیها الماء فجری الی قدر ذراع طهرت الارض والماء طاهر بمنزلة الماء الجاري ولو اصابها المطر وجری علیها طهرت ولوکان قلیلا لم یجرفلا ([2]) شامی جلد اول ص ۱۹۳. ددې څخه معلومه

= باعتبار العین فتزول بزواله الخ وما لیس بمرئي فطهارته أن یغسل حتی یغلب علی ظن الغاسل أنه قد طهر (هدایه باب الأنجاس ص۷۴ ج۱). ظفیر

([1]) ومنها الاحراق الخ إذا حرق رأس الشاة ملطخا بالدم وزال عنه الدم یحکم بطهارته (عالمگیري کشوري باب الأنجاس ج۱ ص۷۴، ط. ماجدیة ج۱ ص)۲ ظفیر

([2]) فسؤر آدمی مطلق ولو جنبا او کافرا الخ طاهر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر مطلب =

سوه چي دهغه دپاکيدلو صورت دادی چې ډيری پاکی اوبه دی پرهغو باندی دي وبهول سی اوهغه دي پريمنځی نوپاکی به سی اوپه جاری اوبوکی که چيري اختلاط دنجاست وی نوهغه پاکی دی، نو په کمو ځايونوکی چې اوبه تيريږی هغه ځايونه به پاك سی. فقط

په کم شي کی چې شراب واچول سی اوپه لمرکی په اچولو سره هغه والوزول سی نو دهغه استعمال څنګه دی؟ او دخنزير دوازګی څخه جوړ سوی صابون او دشرابو سرکه پاکه ده او که نه؟

سوال: (۴۱۰) په يوشی کی شراب واچول سول اوپه لمر کی کښيښودل سوه، وروسته بيا هغه شی په تيلو کی واچول سو نو دهغه استعمال جائز دی اوکه نه؟ اوهغه دوايي په کمه کی چې واچول سول اوپه لمر کی والوزول سول هغه پاکه ده اوکه ناپاکه؟ بله داچې دخنزير وازګه چې په يو صابون کی ولويږي ددغه په اړوند يوراوی بيان کړی دی چې ددی داستعمال فتوی علماء ديوبند ورکړی ده، آيا داخبره صحيح ده اوکه غلطه؟ دناپاکه شی چې کله استحاله يعني ديوه حالت څخه بل حال ته اوښتل وسی نوهغه پاکيږی اوکه نه؟ ددی څه صورت دی؟ په شرابوکی چې کله مالګه واچول سی نوسرکه سی دهغه استعمال جائز دی اوکه نه؟ حلاله ده اوکه ناپاکه اوکه مکروهه ؟

جواب: ددغه تيلو استعمال ناجائز دی او دصابون مسئله يې په درمختار کی داليکلی ده چې په شامی کی هم ده چې دناپاکه تيلو اودپليتی وازګی اودمرداري وازګی څخه چې کم صابون جوړ کړل سی هغه پاك دی په سبب دانقلاب دحقيقت لکه څنګه چې په مالګه کی يومردار حيوان ولويږي اومالګه سی نوهغه هم پاك دی، دصابون په هکله په شامي کي دي: ويطهر زيت تنجس بجعله صابوناً به يفتٰی الخ (۱) درمختار ج۱ ص۳۲۵، (۲) وظاهر ان الميتة كذلك الخ شامی (۳) وفي شرح المنية ما يؤيد الاول حيث قال وعليه يتفرع ما لو وقع انسان او كلب في قدر الصابون فصار صابونا يكون طاهرا لتبدل الحقيقة، شامي (۴) اوپه درمختار کی په بل ځای کی دی: ولا ملح كان حمارًا او خنزيراً الخ لانقلاب العين به يفتٰى، (۵) درمختار ص۳۳۸ ج۱، ددی عبارتو څخه معلوميږی چې

= في السؤر ص۲۰۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۲۲) ولعاب الأنسان طاهر لتولده من لحم طاهر إذ حرمته لكرامته لا لنجاسته وقوله تعالى (إنما المشركون نجس) المراد أنهم ذو نجاسة معنوية وهو الشرك الخ أما لو تلوث فمه بنجاسة الخ (غنية الستملي في الآسار ص۱۲۴). ظفير

(۱) ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۷۳ مطلب الأصح انه لا يشترط في الجريان المدد، ط.س. ج۱ ص۱۸۸. ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الانجاس ج۱ ص۲۹۱، ط.س. ج۱ ص۳۱۵. ظفير

(۳) رد المحتار باب الأنجاس ص۲۹۱ تحت قوله ويطهر زيت، ط.س. ج۱ ص۳۱۵ . ظفير

(۴) رد المحتار باب الأنجاس ص۲۹۱ تحت قوله ويطهر زيت، ط.س. ج۱ ص۳۱۵ . ظفير

(۵) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الانجاس ج۱ ص۳۰۱، ط.س. ج۱ ص۳۲۲. ظفير

دخنزير دوازګی هم داحکم دی چی په صابون جوړيدلو سره پاکيږی والله تعالی شانه اعلم. همدارنګه داحکم دی دشرابو څخه دسرکی په جوړولو کی چی دسرکی په جوړيدلو سره انقلاب عينی کيږی اوشراب شراب نه پاته کيږی، استعمال دهغه حلال دی اوهغه پاکه ده، په شامی ج۱ ص۳۲۵ کی دی: نحو خمر صار خلاً وحماراً وقع ملحة فصار ملحًا الخ فان ذلك كله انقلاب حقيقة الى حقيقة اخرىٰ (۱). فقط

دشيدی رودونکی ماشوم متيازی نجسی دی: **سوال**: (۴۱۱) آيا دشيدی رودونکی ماشوم متيازی نجسی دی؟

جواب: دماشوم متيازی نجسی دی (لقوله ﷺ استنزهوا عن البول) الحديث. (۲) فقط

په کمه سرکه کی چی چرمښکی مړه سی دهغی خوراک څنګه دی؟ **سوال**: (۴۱۲) يومنګی سرکه چی تقريبًا لس سيره ده په هغه کی چرمښکی ولويده اومړه شوه دهغی خوراك شرعًا جائز دی اوکه نه؟ اوپه کارکی لګول لکه په ضماد کی يې راوستل صحيح دی اوکه نه؟

جواب: په کمه چرمښکی کی چی بهيدونکی وينه نسته نو دهغی په مرګ سره اوبه اوسرکه وغيره نه ناپاکيږی، که چيري طبعًا دهغی خوراك مضر وګڼل سی نو نه دي خوری خو په دی صورت کی ضماد صحيح دی ولی چی هغه پاك دی اوکه چيري لوی قسم وی په کمه کی چی بهيدونکی وينه وی نو دهغی په مرګ سره اوبه وغيره پليتيږی، نوکه چيري شبه وی چی وينه پکښی سته اوکه نه؟ نواستعمال دهغی دي نه کوی په شامی کی دی: وکالحية البرية الوزغة لو كبيرة لها دم سائل (۳) اوکه چيري باوجود دپاکوالی په سبب دمضرت يی څخه خوری نوضماد صحيح دی. فقط

کم لاس چی سپی ته وروړی نوبغير دپريمنځلو څخه په هغه سره دډوډی خوراک صحيح دی اوکه نه؟ او دهغه دځرمنی څخه بوکه جوړول جائز دی اوکه نه؟ **سوال**: (۴۱۳) په سپی باندی چی په مينه سره لاس ووهی ډوډی خوړول اوپه کم ځای کی چی دسپی وريښتان ولويږي هلته درحمت فرښتی راځی اوکه نه؟

جواب: وروسته دلاس وروړلو څخه لاس نه پليتيږی، البته کم فقهاء چی دسپی دنجس العين کيدلو قائل دی نو دهغوی په نزد که چيري بدن دهغه سپي لوند وی نوپه لاس لګولو سره به دهغوی لاس ناپاکه سی اوکه چيري وچ وی نونه ناپاکه کيږی، بهرحال

---

(۱) رد المحتار باب الأنجاس ص۲۹۱ تحت قوله ويطهر زيت، ط.س. ج۱ ص۳۱۵ . ظفير

(۲) نصب الرايه ج۱ ص۱۲۸. ظفير

(۳) ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۷۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۵. ظفير

ددی فعل څخه احتراز کول اولی دی، اودغه ډول دسپی دڅرمنی څخه بوکه جوړول ددباغت څخه وروسته هم صحیح دی اوچی څوك ورته نجس العین وایی هغوی ورته جائز نه وایی لیکن صحیح خبره همداده چی هغه دخنزیر په ډول نجس العین نه دی (۱) اوپه حدیث پاك کی دی: لاتدخل الملئكة بيتًا فيه كلب ولا تصاوير (۲) یعنی په کم کورکی چی سپی وی یا تصویر وی هغه کورته درحمت پریښتی نه راځی، په دي کی دوریښتانو دلویدلو حکم نه سته. فقط

کوم رطوبت چی نه بهیږی هغه ناقض وضوء دی اوکه نه؟ **سوال:** (۴۱۴\۱) که چیري دیوچا په بدن کی زخم وی اودهغه څخه رطوبت جاری نه وی نوناقض وضوء دی اوکه نه؟

په نه بهیدونکی رطوبت سره به جامه پلیتیږی اوکه نه؟ **سوال:** (۴۱۵\۲) په دغه رطوبت سره به جامه پلیتیږی اوکه نه؟

ددرهم په مقدار سره ناپاکیږی اوکه نه؟ **سوال:** (۴۱۶\۳) که چیري جامه نجسه سوی وی نو ددرهم په مقدار سره به ناپاکه کیږی اوکه نه؟

زخم ته په زور ورکولو سره چی ګندګی ووزی نو په هغه سره به اودس ماتیږی اوکه نه؟

سوال: (۴۱۷\۴) زخم ته په زور ورکولو سره که چیري سیلان وسی نو اودس به مات سی اوکه نه؟

جواب: ۱: هغه رطوبت چی ترڅوپوری بهیدونکی نه وی نوناقض دوضوء نه دی (۳).

۲: جامه په هغه سره نه پلیتیږی ځکه چی دامسلمه قاعده ده چی په کم شی سره اودس نه ماتیږی هغه نجس هم نه دی (۴).

۳: کله چی معلومه سوه چی هغه نجس نه دی نوکه هغه په مقدار ددرهم وی اوکه زیات وی په هغه سره به جامه نه پلیتیږی دامام محمد ﷫ څخه روایت دی چی که چیري په

---

(۱) واعلم انه ليس الكلب بنجس العين عند الإمام وعليه الفتوى الخ فيباع ويؤجر ويضمن ويتخذ جلده مصلى ودلوا ولو اخرج حيا ولم يصب فمه الماء لا يفسد ماء البئر ولا الثوب بانتفاضته الخ ولا خلاف في نجاسة لحمه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۰۸). ظفير

(۲) مشكوة المصابيح باب التصاوير فصل اول ص۳۸۵. ظفير

(۳) وينقضه خروج كل خارج نجس منه أى من المتوضى الحى معتادا اولا من السبيلين اولا إلى مايطهر الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ص۱۲۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۳۴) وكل ما ليس بحدث اصلا كقئ قليل ودم لوترك لم يسل ليس بنجس عند الثاني وهو الصحيح رفقا بأصحاب القروح (الدرالمختار على هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۰، ط.س. ج۱ ص۱۴۰). ظفير

(۴) وكل ما ليس بحدث اصلا كقئ قليل ودم لوترك لم يسل ليس بنجس عند الثاني وهو الصحيح رفقا بأصحاب القروح (الدرالمختار على هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۰، ط.س. ج۱ ص۱۴۰). ظفير

اوبوکی ولویږي نواوبه به ناپاکی وی دجوهرة څخه منقول دی چی په بهیدونکو شیانوکی دامام محمد رحمه الله پرقول باندی فتوٰی ده اوپر جامه اوبدن باندی دامام ابویوسف رحمه الله پرقول باندی فتوٰی ده یعنی بدن اوجامه به نه پاکیږی په خلاف دمائعاتو لکه اوبه وغیره چی هغه ناپاکه سی نوبناءًا علیه که چیري هغه جامه په اوبوکی ولویږي نو اوبه به ناپاکه سی. (۱)

۴: سیلان (بهیدل) چی په هری وجه سره وی که پخپله وی اوکه په زور سره وبهول سی په هرحال کی اودس به پاته نه سی. (۲) فقط

دغسل څخه وروسته یی پلیته جامه واغوستله نوبدن پاک پاته سو اوکه نه؟ سوال: (۴۱۸) یو چاته احتلام وسو هغه دغسل څخه وروسته همدغه جامه واغوستله، اوچی کورته راغی نوبله جامه یی واغوستله اواستعمال یی کړه نوهغه پاکه ده اوکه ناپاکه؟

جواب: که چیري دبدن وچولوڅخه وروسته یی هغه جامه اغوستی وی نوهیڅ حرج نه سته، اوکه چیري بدن لوند وی نوهغه ناپاکه جامه دي نه اغوندی ځکه چی احتمال دبدن دناپاکوالی دی. اوځه چی وسول نوپه هغه کی دي شبهه نه کوی اوپه ائنده کی دي احتیاط کوی. (۳) فقط

دسپی څرمن ددباغت څخه وروسته پاکه ده اوکه ناپاکه؟ اوپر هغی باندی لمونځ کول او دقرآن پاک لوستل څنګه دی؟ سوال: (۴۱۹) زید دسپی څرمن ته دباغت ورکړی دی او جاینماز یی ورڅخه جوړ کړیدی اوپه جومات کی یی هواروی اولمونځ ورباندی کوی اوقرآن پاك ورباندی ایږدی نودغه کار جائز دی اوکه نه؟

جواب: دسپی وغیره دڅرمنی په هکله په درمختار کی ذکردی: واعلم ان الکلب لیس بنجس العین عند الإمام وعلیه الفتوٰی وان رجح بعضهم النجاسة کما بسط ابن الشحنة فیباع ویؤجر ویضمن ویتخذ جلده مصلی ودلواً الخ په شامي کي دي: قوله وعلیه الفتوٰی وهو الصحیح، والأقرب الی الصواب بدائع وهو ظاهر المتون، بحر، ومقتضی عموم الأدلة، فتح (۴) نو ددرمختار، شامی، بدائع، بحر اوفتح القدیر څخه ترجیح دجواز

---

(۱) خلافا لمحمد رحمه الله وفی الجوهرة یفتی بقول محمد لو أصاب مائعا (درمختار) أی کالماء ونحوه أما الثیاب والأبدان فیفتی بقول أبی یوسف (رد المحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۰، ط.س. ج۱ ص۱۴۰). ظفیر

(۲) والمخرج بعصر والخارج بنفسه سیان فی حکم النقض علی المختار کما فی البزازیة الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۲۷، ط.س. ج۱ ص۱۳۷). ظفیر

(۳) ولو لف فی مبتل بنحو بول إن ظهر نداوته او أثره تنجس وإلا لا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی الإستنجاء ج۱ ص۳۲۱، ط.س. ج۱ ص۳۴۷). ظفیر

(۴) ردالمحتار باب المیاه قبیل مطلب فی المسك ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۳۰۸. ظفیر

معلومه سوه نوکه چیري چا داسی کړی وی نو محل داعتراض نه دی، اواحتیاطًا یې نه کول بیله خبره ده په جوازکی یی کلام نه سته. فقط

داچارو په لوښی کی مږه ولویده او مږه سوه نو پاک دی اوکه ناپاکه؟ سوال: (۴۲۰) په یوه لوښی کی دتیلو اچار ؤ، اوتیل دلوښی ترخولی پوری راغلی وه، چی په هغه کی یوه مږه ولویده اومږه سوه نودغه اچار پاك دی اوکه ناپاکه؟ اوکه چیري سربیره برخه یی وغورځوی نواچار خوړلی سی اوکه نه؟

جواب: دغه تیل اواچار ټول ناپاکه سو اونور دکار دپاره نه دي وړ، (۱) تیل که چیري دبلولو دکاروی نودکور په څراغ کی دي بل کړه سی. (۲) فقط

کافر پاک دی اوکه ناپاکه؟ او دهغه پخه کړی اوپه لاس مسه سوی ډوډی څنګه ده؟ سوال: (۴۲۱) کافر نجس دی اوکه پاك دی؟ که نجس وی نو دهغه دلاس پخه سوی ډوډی پاکه ده اوکه ناپاکه؟ که چیري پاکه وی نوپه کم دلیل باندی پاکه ده؟ او دهغه په لاس دپاخه سوی شی خوړل صحیح دی اوکه نه؟

جواب: کافر په اعتبار دعقائد باطنیه ؤ سره نجس دی لکه چی باری تعالٰی فرمایلی دی: انما المشرکون نجس، قال الشامی فالمراد بقوله تعالٰی انما المشرکون نجس، النجاسة فی اعتقاد هم الخ (۳) نومعلومه او محققه سوه چی نجاست دکافر په اعتبار داعتقاد سره دی نه په اعتبار دظاهر، نوکه چیري دهغه پرلاس باندی څه ظاهری نجاست نه وی نو دهغه په لاس پخه سوی یا مسه سوي ډوډی پاکه او صحیح ده (۴) په خپله نبي کریم ﷺ دکافرانو په لاس پخه سوي ډوډۍ خوړلي ده. فقط

داوبو په بهیدلو سره چی ازاله دنجاست وسی نوپاک دی: سوال: (۴۲۲) دفقهی په کتابونوکی لیکلی دی که پریو شي باندی دری واره اوبه وبهول سی هغه ددری واره پریمنځلو یا دمښلو یا دنښتیځلو قائم مقام کیږي آیا داکلیه بدن ته هم شامله ده چی نجاست کم ځای پربدن ولګیږی یا لګیدلی وی نوچی دری واره چی اوبه پر وبهول سی دلاس مږل ورسره شرط دی اوکه نه؟

(۱) ویحکم بنجاستها مغلظة من وقت الوقوع إن اعلم الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر ج۱ ص۲۰۱، ط.س. ج۱ ص۳۱۸). ظفیر

(۲) بل یستصبح به فی غیر مسجد (درمختار) وإنما هذا فی الدهن المتنجس فقط (ردالمحتار بعد مطلب فی حکم الوشم باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۵، ط.س. ج۱ ص۳۳۱). ظفیر

(۳) ردالمحتار فصل فی البئر مطلب فی السور ص۲۰۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۲۲. ظفیر

(۴) فی التاتارخانیة من شك فی إنائه الخ فهوطاهر وکذا (ای طاهر) ما یتخذه أهل الشرك اوالجهلة من المسلمین کالسمن والخبز والأطعمة والثیاب (رد المحار قبیل أبحاث الغسل ج۱ ص۱۴۰، ط.س. ج۱ ص۱۵۱). ظفیر

جواب: که چيري داوبو په بهولو سره ازاله دنجاست وسی نوبدن به هم پاك سی. (۱) فقط

پرجامه باندې چې دمني شبهه وي: **سوال**: (۴۲۳) دمني يا دمتيازو شبهه چې پرجامه باندې وي اودا متعينه ده چې دقدر ددرهم څخه کمه ده نوجامه پاکه ده اوکه ناپاکه؟

جواب: په شبهې سره جامه نه ناپاکه کيږي (۲) اوکه چيري ددرهم برابر نجاست نه وي نولمونځ ورسره کيږي، البته چې که ددرهم څخه زيات وي نوبيايې پريمنځل ضروري دي، په درمختار کې دي: وعفي الشارع عن قدر الدرهم الخ (۳). فقط

دکوترې ګندګي نجسه ده اوکه نه؟ اوپه جومات کې چې کمې کوترې وي هغه خرڅول اوقيمت يې په جومات کې لګول څنګه دي؟ **سوال**: (۴۲۴) دکوترو ګندګي پليته وي اوکه نه؟ اوپه جومات کې چې کمې کوترې اوسيږي دهغو خرڅول او دهغوی قيمت په جومات کې مصرفول صحيح دي اوکه نه؟

جواب: دکوترو ګندګي پليته نه ده (۴) او دجومات کوترې نيول اوخرڅول اودهغو قيمت په جومات کې مصرفول صحيح دي.

دسپي نارې ناپاکه دي اونور بدن يې پاک دی، دا ولې؟ **سوال**: (۴۲۵) په بهشتي زيورکې داليکلي دي چې دسپي نارې ناپاکه دي اونور ټول پاك دي داسي ولې ده؟

جواب: دسپي په باره کې داقول صحيح دي چې هغه دخنزير په ډول نجس العين نه دی، ددی وجه څخه ماسوا دهغه دخولې دنارو څخه هغه ټول پاك دي، نومسئله دبهشتي زيور صحيح ده اومفتیٰ به ده لکه چې څنګه په درمختار کې دي: واعلم انه ليس الکلب بنجس العين عند الامام رحمه الله وعليه الفتویٰ الی ان قال ولا خلاف فی نجاسة لحمه وطهارة شعره، وفی الشامی قوله ولا خلاف فی نجاسة لحمه ولذا اتفقو علی نجاسة سوره المتولد من لحمه الخ (۵). فقط

---

(۱) وكذا يطهر محل نجاسة الخ مرئية بقلعها أي بزوال عينها وأثرها ولو بمرة او بما فوق ثلاث (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۲، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفير

(۲) ولو شك فی نجاسة ماء اوثوب الخ لم يعتبر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار قبيل أبحاث الغسل ج۱ ص۱۴۰، ط.س. ج۱ ص۱۵۱). ظفير

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۲۹۱، ط.س. ج۱ ص۳۱۲، ددي څخه مخکي دي: وعفي الشارع عن قدر الدرهم وإن کره تحريما فيجب غسله وما دونه تنزيها فيسن وفوقه مبطل فيفرض والعبرة لوقت الصلوة لا الإصابة علی الأکثر (ايضا، ط.س. ج۱ ص۳۱۲). ظفير

(۴) وذرق ما يؤکل لحمه من الطير طاهر عندنا مثل الحمام والعصافير كذا فی السراج الوهاج (عالمګيري کشوري باب النجاسات ص۴۵ ج۱). ظفير

(۵) رد المحتار قبيل فصل البئر ص۱۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۰. ظفير

پرتمباکو باندي چي سپي کښيني نوهغه خو ناپاکه نه سول؟ سوال: (۴۲۶) چي ريبل سوی تمباکو ايښودل سوی وی او څه نم (لنده بل) پکښې وی او دشپې سپي راسی باندی کښېني سهار په هغوی کی دسپي وريښتان وليدل سول، اوس نو ددغه تمباکو استعمال جائز دی اوکه نه؟

جواب: دغه تمباکو پاك دی اودهغو استعمال جائز دی. (۱) فقط

دجنابت دحالت خوله پاکه ده اوکه نه؟ سوال: (۴۲۷) دګرمی په ورځوکی که چيري دجنابت په حالت کی خوله راسی نو په هغی سره جامی پليتيږی اوکه نه؟

جواب: دجنب خوله ناپاکه نه ده اوپه دی سره جامه نه ناپاکه کيږی. (۲)

چي پرجامه باندي ناپاکي ولګيږي او پته يي نه لګيږي نوڅه وکړي؟ سوال: (۴۲۸) که چيري دخوب په حالت کی دپنبه ؤ پر جامه باندی دناپاکی داغ ولګيږی او دا معلومه نه وی چي پرکم ځای باندی لګيدلی دی، نو دهغه دپاکولو څه صورت دی؟ دټولو په پريمنځلو سره پنبه خرابيږی؟

جواب: دداسی جامی يو ګُنج دي پريمنځل سی نو ټوله به پاکه سی (۳). فقط

دسپينو زرو لوښي چي ناپاکه سو نوهغه څه رنګه پاک کړل سي؟ سوال: (۴۲۹) دسپينو زرو لوښی که چيري ناپاکه سی نو په خاوري سره په مښلو او دری واره پريمنځلو سره پاکيږی اوکه نه؟

جواب: هغه لوښی به په خاوره سره په مښلو او پريمنځلو سره پاك سی. (۴) فقط

دمني داغ وروسته دپريمنځلو څخه پاک دي: **سوال**: (۴۳۰) که چيري څه منی پرجامه باندی ولويږی اوجامه وپريمنځل سی او پاکه کړل سی خوداغ ورڅخه ولاړ نه سی نوهغه جامه پاکه ده اوکه نه؟

---

(۱) واعلم انه ليس الکلب بنجس العين الخ ولا خلاف فی نجاسة لحمه وطهارة شعره (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۰۸). ظفير

(۲) وحکم العرق کسؤر (درمختار) فسؤر آدمي مطلقا ولو جنبا او کافرا الخ طاهر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی السؤر ج۱ ص۲۰۵، ط.س. ج۱ ص۲۲۲). ظفير

(۳) وغسل طرف ثوبه اوبدن اصابته نجاسة محلا عنه ونسي المحل مطهر له وإن وقع الغسل بغير تحری هو المختار (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۱ – ۳۰۲، ط.س. ج۱ ص۳۲۷). ظفير

(۴) وکذا يطهر محل نجاسة مرئية بقلعها ولايضر بقاء اثر لازم وغيرها بغلبة ظن غاسل لو مکلفا طهارة محلها مختصرا (الدر المختار) الأواني ثلاثة أنواع خزف وخشب وحديد ونحوها وتطهيرها علی اربعة اوجه حرق ومسح وغسل ونحت، فان کان الأناء من خزف او حجر وکان جديدا او دخلت النجاسة في أجزائه بحرق وإن کان عتيقا يغسل وإن کان من خشب جديد ينحت ومن قديم يغسل وإن من حديد او صفر او رصاص او زجاج وکان صقيلا يمسح وإن کان خشنا يغسل (الطحطاوي علی الدرالمختار باب الأنجاس ج۱ ص۱۲۳). ظفير

جواب: که چیري داغ او رنګ او بوی ولاړ نه سی نوهیڅ حرج نه سته اوجامه پاکه ده. ([1]) فقط

خاورين لوښی چی ناپاکه سی نوپه پريمنځلو سره به پاک سی: سوال: (۴۳۱) خاورين لوښی چی ناپاکه سی نوپه پريمنځلو سره پاکيدی سی اوکه نه؟

جواب: په پريمينځلو سره پاکيدی سی دری واره دي هغه وپريمنځل سی. ([2])

که شراب دبدن یا دجامی سره ولګيری نوپه پريمنځلو سره به پاک سی اوکه نه؟ سوال: (۴۳۲\۱) یوچا دشرابو څخه ډك بوتل راوړی کم چی په شرابو لوند دی دغه کس هغه لاس په کم کی يی چی بوتل راوړی ؤ دبل سړی دجامو سره ولګوی، نودا جامی به په پريمنځلو سره پاکي سی اوکه نه؟ او دمذکوره جامو سره چی بله جامه ولګيږی هغه هم ناپاکه سوه اوکه نه؟ او دهغی سره لمونځ صحيح دی اوکه نه؟ اوپرکومو لاسو چی دشرابو لوندوالی ولګيږی هغه به په پريمنځلو سره پاك سی اوکه نه؟

خنزير خوړونکی قلم په خوله کی کښيښووی بيا همدغه قلم مسلمان په خوله کی کښيښووی نوددی څه حکم دی؟ سوال: (۴۳۳\۲) کم زميندا ران چی خنزير خوری دهغوی هلکانو قلم په خوله کی کښيښووی اوبيا هغه قلم په غلطی سره مسلمان په خوله کی کښيښووی نو خوله يی ناپاکه سوه اوکه نه؟

جواب: ۱: که چيري دشرابو لوندوالی جامی ته یا لاس ته ولګيږی نو په پريمنځلو سره به هغه پاکيږی، ([3]) اودکمی جامی سره چی هغه جامه ولګيدله نوکه چيري په هغه جامه کی لوندوالی راغی نوهغه ناپاکه سوه کنې نه ده ([4]) اوپه پريمنځلو سره به پاکه سی او دپريمنځلو څخه وروسته لمونځ دهغې جامی سره صحيح دی.

۲: اوکم قلم چی دزميندار زامنو په خوله کی کښېښووی، که چيري يو مسلمان په غلطی سره هغه قلم په خوله کی کښيږدی نوهيڅ حرج نسته خوله ناپاکه نه سوه. ([5]) فقط

([1]) ولايضر بقاء اثر كلون وريح لازم فلا يكلف في إزالته إلى ماء حار او صابون ونحوه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۴، ط.س. ج۱ ص۳۲۹). ظفير

([2]) وكذا يطهر محل نجاسة مرئية بقلعها الخ وغيره بغلبة ظن غاسل الخ وقدر بغسل وعصر ثلاثا الخ (درمختار باب الأنجاس، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفير

([3]) وكذا يطهر محل نجاسة مرئية بقلعها الخ وغيرها بغلبة ظن غاسل الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۳، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفير

([4]) وإذا لف الثوب المبلول النجس فی ثوب طاهر يابس فظهرت نداوته ای نداوة الثوب المبلول على الطاهر ولكن لا يصير رطبا بحيث يسيل منه شيء بالعصر بل كان بحيث لو عصر لا يسيل منه شيء ولا يقاطر اختلف المشائخ فيه والأصح أنه لايصير نجسا (غنيه المستملي فصل فی الأسار ص۱۷۱). ظفير =

پرکمی لوټی باندی چی ناپاکه اوبه بهیدلی اوتیری سوی نوهغه پاکه سوه اوکه ناپاکه؟

سوال: (۴۳۴) نوی لوټی ایښودل سوی وی دهغو څخه په یوګز فاصله باندی سپی ګندګی وکړه وروسته پرهغه باندی باران وسو دباران اوبه ترټولو لاندی تیری سوی نوهغه لوټی پاکی دی اوکه ناپاکه؟

جواب: په دی صورت کی لوټی پاکی دی ولی چی روانی اوبه دباران پاکی وی، په هغه کی که چیري نجسی اوبه هم شاملی سی نوجاری اوبه به ناپاکی نه سی. (۱) فقط

دانسان دوریښتانو بیخونه پاک دی اوکه ناپاکه؟ **سوال**: (۴۳۵) دانسان وریښتان که چیري دبیخ څخه وایستل سی نو دهغه دوریښتانو بیخونه پاك دی اوکه ناپاکه؟

جواب: ناپاکه دی. (۲) فقط

که دبدن پریوه حصه باندی بنګي یا چرس ولویږي نوځنګه پاکیږي؟ **سوال**: (۴۳۶) که چیري دیو چا پربدن باندی چرس توی سي یا ولګیږي نو دهغه دبدن دغومره حصه دپریکولو قابله ده، داصحیح دی اوکه غلط؟

جواب: دابیان غلط دی چی دبدن هغه حصه پریکول په کاردی بلکه دهغی پریمنځل کافی دی (۳). فقط

تاریزه ناپاکه جامه څه رنګه پاکیږي؟ **سوال**: (۴۳۷) دپنبه ؤ جامه په پریمنځلو سره پاکیږی اوکه نه؟ اوکله چی هغه ناپاکه سی نودهغی دپریمنځلو څه طریقه ده؟

جواب: په پریمنځلو سره پاکیږی اوبله څه نوی طریقه دهغی دپریمنځلو نه سته خوکه چیري نجاست پرسربیره استر باندی وی او پنبه ؤ ته نه وی رسیدلی نو صرف دلوړ استر پریمنځل کافی دی او که چیري پنبه ؤ ته رسیدلی وی نو دپنبه ؤ پریمنځل ضروری دی.

---

(۵) فسؤر آدمی مطلقا ولو جنبا اوکافرا الخ طاهر (ایضا مطلب فی السور ج۱ ص۲۰۵) ولعاب الإنسان طاهر لتولده من لحم طاهر إذ حرمته لكرامته لا لنجاسته وقوله تعالى (إنما المشركون نجس) المراد انهم ذو نجاسة معنوية وهو الشرك الخ أما لو تلوث فمه بنجاسة الخ (غنية المستملي فصل في الاسار ص۱۲۴). ظفير

(۱) وفي بعض الفتاوى قال مشائخنا المطر مادام يمطر فله حكم الجريان حتى لو أصاب العذرات على السطح ثم اصاب ثوبا لا يتنجس إلا أن يتغير (عالمگيري كشوري الباب الثالث في المياه ج۱ ص۱۵، ط. ماجدية ج۱ ص۱۷). ظفير

(۲) وشعر الأنسان غير المنتوف الخ طاهر (درمختار) قوله غير المنتوف، أما المنتوف فنجس المراد رؤوسه التي فيها الدسومة (رد المحتار باب المياه ص۱۹۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۰۷). ظفير

(۳) وكذا يطهر محل نجاسة مرئية بقلعها الخ وغيرها بغلبة ظن غاسل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ص۳۰۳ ج۱) تطهير النجاسة واجب عن بدن المصلي وثوبه الخ وجوز تطهيرها بالماء الخ (هدايه باب الأنجاس ص۲۹ ج۱). ظفير

(۱)، والله أعلم. فقط

چمیار (یعني دمشرکانو دیو قوم شخص) څپلۍ لنده کړه اووی ګنډله نوپاکه پاته سوه اوکه نه؟ **سوال**: (۴۳۸) په هندو چمیار باندی یوچا دڅپلی مرمت وکی، دامعلومه نه ده چی پاکی اوبه دی اوکه پلیتی اوڅپلی مخکي پاکه وه نواوس څپلۍ پریمنځل کیږي اوکه نه پاکه ده؟

جواب: هغه څپلۍ به پاکه ګڼل کیږی ځکه چی دشبهی له وجي دناپاکی حکم نه کول کیږی. (۲) فقط

دناپاکه غوړو او دتیلو دپاکولو څه طریقه ده؟ **سوال**: (۴۳۹) په تیلو او غوړو کی چی مړه ولویده اومړه سوه نوشرعًا یو تدبیر داسی سته چی په هغه سره دانجس تیل یا غوړی پاك کړل سی اودهغه استعمال اکلاً اوشربًا او ادهانًا صحیح سی که چیري وروسته دتطهیر څخه دهغو استعمال په غیر داکل اوشرب کی جائزوی نوپه حواله سره یي تحریر وفرمایاست، اودا سوال دمائعو غوړو متعلق دی دکلك سوو غوړو په باره کی نه دی؟

جواب: په درمختار کي دی: ویطهر لبن وعسل ودهن یغلی ثلثا (۳) ددی حاصل دادی چی شیدی اوشهد اوتیل په دری واره جوش ورکولو سره پاکیږی یعنی په هرواره دي دومره جوش ورکړل سی چی اوبه یې وسوزیږی اوهمدا حکم دتیلو او دجامدو غوړو دی اوپه شامی کی دی چی په تیلو کی دجوش ورکولو ضرورت هم نسته بلکه په هروار دي اوبه ورواچوی اوهغه دي ښه وښورول سی بیا چی په لږ وخت دربدلو سره تیل سربیره راسی هغه دي بیا پورته کړل سی دغه رنګه دي دری واره وکړل سی. (۴)

چرګه چی په ډک حمام کی مشوکه ووهی نوپاک پاته سو اوکه نه؟ **سوال**: (۴۴۰\۱۱) چرګی چی په ډك حمام کی مشوکه ووهله نوهغه پاك دی اوکه نه؟

کارغه یاچرګه چی په شیدو یاپه اوبوکی مشوکه ووهی نو هغه پاکي دی: **سوال**: (۴۴۱\۱۲) کارغه یاچرګه چی په شیدو یاداوبوپه پیاله کی مشکوه ووهی نوهغه شیدی اواوبه پاکی

---

(۱) تطهیر النجاسة واجب عن بدن المصلي وثوبه الخ اویجوز تطهیرها بالماء الخ (هدایه باب الأنجاس ص۲۹ ج۱). ظ

(۲) فلو علم نتنه بنجاسة لم یجز ولو شك فالأصل الطهارة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ص۱۷۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفیر

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب تطهیر الأنجاس مطلب فی تطهیر الدهن والعسل جلد اول ص۳۰۸، ط.س. ج۱ ص۳۳۴. ظفیر

(۴) قال فی الدر ولو تنجس العسل فتطهیره أن یصب فیه ماء بقدره فیغلي حتی یعود إلی مکانه والدهن یصب علیه الماء فیغلي فیعلوا الدهن الماء یرفع بشيء هکذا ثلاث مرات آه فقد صرح فی مجمع الزوائد وشرح القدوري أنه یصب علیه مثله ماء ویحرك فتأمل (ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۹، ط.س. ج۱ ص۳۳۴). ظفیر

دی اوکه نه؟

دشیدو لوشلو په وخت کی چی متیازی په شیدو کی ولویږی نوهغه ناپاکه سوې: سوال:

(۴۴۲\۳) دشیدو دلوشلو په وخت کی چی دهمدغه حیوان متیازی په شیدو کی ولویږی نوهغه شیدی پاکی دی اوکه نه؟

جواب: ۱: حمام پاك دی. (۱)

۲: هغه اوبه او شیدی پاکي دی. (۲)

۳: هغه شیدی په کمو کی چی متیازی لویدلی دی ناپاکه دی. (۳) فقط

چی خنزیر په څاه کی ولویږی او ژوندی را وایستل سی نو اوبه ناپاکی سوی اوکه نه؟ سوال:

(۴۴۳) یو خنزیر په څاه کی ولویدی لیکن هغه یی ژوندی را وایستی نو ددغه څاه داوبو دپاره څه حکم دی؟

جواب: دری سوه بوکی ددغه څاه څخه را ایستل کافی دی (ځکه چی هغه اوبه ناپاکه سوی. ظفیر) دوه سوه واجبی دی او دری سوه مستحب دی، نوبهتره داده چی دری سوه بوکی وایستل سی نوبیابه اوبه او سلواغه اورسی. اوڅاه ټول پاك سی. وقیل یفتٰی بمأتین الی ثلث مائة وهذا ایسر الخ، درمختار. وفی رد المحتار وافاد فی النهر ان المأتین واجبتان والمائة الثالثة مندوبة الخ. (۴) فقط

دموږک دګندګی څه حکم دی؟ سوال: (۴۴۴) خرء الفارة یعنی دموږك دګندګی په باره کی مفصل احکام څه دی چی په تیلو یاپه غوړو یا په شربت یاپه سرکه یاشیدو وغیره کی که چیري پیداسی نوپه کم حالت کی به هغه شی ناپاکه وی او په پړسیدلو او ریزه ریزه کیدلو سره به په نجاست کی څه اثر وی اوکه نه؟

جواب: خرء الفارة یعنی دموږك دګندګی په هکله په باب الانجاس کی دی: وسیجئ اخر الکتاب ان خرئها لا یفسد ما لم یظهر اثره (۵) یعنی دموږك ګندګی یوشی نه ناپاکه کوی

---

(۱) و(۲) وسور هرة ودجاجة مخلاة الخ وسباع طیر لم یعلم ربها طهارة منقارها وسواکن بیوت طاهر للضرورة مکروه تنزیها فی الأصح إن وجد غیره وإلا لم یکره اصلا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی السؤر ج۱ ص۲۰۷، ط.س. ج۱ ص۲۳۳). ظفیر

(۳)وبول مأکول اللحم نجس نجاسة خفیفة وطهره محمد ولایشرب بوله اصلا لا للتداوی ولا لغیره عند ابی حنیفة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۹۳، ط.س. ج۱ ص۲۱۰). ظفیر

(۴) رد المحتار فصل فی البئر ص۱۹۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۵، مطلب دا سو چي په څاه کي دخنزیر په لویدلو سره څاه مرداریږي ځکه چي هغه نجس العین دي: إلا جلد خنزیر فلا یطهر (درمختار) لأنه نجس العین بمعنی ان ذاته بجمیع اجزائه نجسة حیا ومیتا (رد المحتار باب المیاه ص۱۸۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۰۴). ظفیر

(۵) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس جلد اول ۲۹۴، ط.س. ج۱ ص۳۱۹. ظفیر

ترڅو پورې چې په هغه کې ددغې اثر ظاهر نه سي يعنې چې دومره زيات نه وي چې دهغه اثر پرطعم، او لون وغيره باندې ظاهر اوغالب سي اوپه آخر دکتاب په مسائل شتی کې يې ليکلي دي چې: ولا يفسد خرء الفارة الدهن والماء والحنطة للضرورة الا اذا ظهر طعمه او لونه في الدهن ونحوه لفحشه وامكان التحرز عنه حينئذ. خانيه (۱)، نوکم شيان چې تاسو په سوال کې درج کړي دي دموږك دګندګي سره به دا ټول پاك وي ترڅو پورې چې په کثير فاحش کيدلو سره دهغوی رنګ اوخوند بدل نه کړي اوريزه ريزه کيدل يا پړسيدل ټول په دي باره کې برابر دي. فقط

دپليتي خټې ښخه تياری سوی خښتي به صرف په اوچيدلو سره پاکي سي اوکه نه؟ سوال:

(۴۴۵) کمی خښتي چې دپليتي خټې ښخه تياری کړل سي آيا هغه صرف په وچيدلو سره اوپه اورکي دپخيدلو ښخه بغير پاکيدی سي اوکه نه؟ اوپه حديث پاك کې چې کم حکم د(ذکاة الارض يبسها) وارد دی هغه دمځکې اوکم شي چې دمځکې په حکم کې دی فقهاؤ دهغو دپاره ليکلي دي نو کمی خامی خښتي چې دپليتي خټې ښخه تياری سوی وی او پريو ځای باندی مفروشی هم نه وی بلکه موضوع على الارض وی، دهغو دپاکوالي او دناپاکوالي ښخه مو خبر کړئ ؟

جواب: هغه خامی خښتي چې دنجسی خټې ښخه تياری سی اويا هغوی ته نجاست ولګيږي نو دهغو حکم دادی چې که چيري هغه په مځکه کې مفروشي يعنی غوړيدلي وی نوپه اوچيدلو سره پاکيږي (۲) اوکه چيري همداسی ايښودل سوی وی چې منقول اومحول کيږي نوهغه په اوچيدلو سره نه پاکيږي: كما في الدر المختار وحكم آجر ونحوه كلبن مفروش الخ كذلك اى كأرض فيطهر بجفاف الخ قوله مفروش اى على الارض مثله البلاط اما لو كان موضوعين ينقلان ويحولان فانهما لا يطهران بالجفاف لانهما ليسا بارض (۳) طحطاوی. فقط

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار مسائل شتى جلد خامس ص۲۴۰، ط.س. ج۱ ص۷۳۲. ددي ښخه مخکې دا عبارت دی: خبز وجد فى خلاله خرء فارة فان كان الخرء صلبا رمى به واكل الحبز (ايضا) وفى القهستاني عن المحيط خرء الفارة لا يفسد الدهن والحنطة المطحونة ما لم يتغير طعمها قال ابو الليث وبه نأخذ (رد المحتار مسائل شتى ج۵ ص۲۴۰، ط.س. ج۲ ص۳۳۲). ظفير

(۲) يعني په داسي ډول چې هغه دمځکې سره مبنتي وي. ظفير

(۳) طحطاوی على الدر المختار باب الأنجاس ج۱ ص۱۵۸. دداسي ايښودل سوو خښتو دپاکيدلو لپاره پخول ضروري دي: والطين النجس إذا جعله منه الكوز والقدر او غيرهما فطبخ يكون ذلك المعمول طاهرا لاضمحلال النجاسة بالنار وزوالها وهذا إذا لم يكن اثر النجاسة ظاهرا فيه بعد الطبخ (غنية الستملي فصل فى الآسار ص۱۸۲). ظفير

دبول نبوي ﷺ متعلق يوه واقعه او دهغې په اړه پوښتنه: **سوال**: (۴۴۶) يو مولوی صاحب په وعظ کې يو روايت بيان کی چې حضرت ام المومنين حفصه بنت عمر (رض) يووار دجناب نبی كريم ﷺ قاروره چيښلی وه ايا دا صحيح دی؟ اوداچې دجناب نبی كريم ﷺ بول اوبراز پاك ؤ ايا دا صحيح ده؟

جواب: دا روايت داحقر ترنظر هيچيري نه دی تير سوی اونه ددی دصحت اودضعف څه حال معلوم دی، البته دنبی كريم ﷺ دبول اودبراز دطهارت تصريح په مواهب اللدنية اونورو کی منقول ده: كمافی رد المحتار صحح بعض ائمة الشافعية طهارة بوله ﷺ وسائر فضلاته صلى الله عليه وسلم وبه قال ابوحنيفه كما نقله فی المواهب اللدنية عن شرح البخاری للعينی الخ. ([1]) فقط

سپی دښوروا په ديګ کی خوله ووهله نو دهغه دپاکولو څه طريقه ده؟ **سوال**: (۴۴۷) سپی دښوروا په ديګ کی خوله ووهله اولړ څه ښوروا يی ورڅخه وڅيښله نو دښوروا دپاکولو طريقه څه ده؟ كه چيري په ښوروا کی څه قدر نوره ښوروا يا اوبه ګډی کړل سی او ښوروا دديګ دخولی څخه وبهيږی نوپه ديګ کی چې کمه ښوروا ده هغه به پاکه سی او که نه؟

جواب: داطريقه کمه چې يی په سوال کی ليکلی ده چې په دغه ديګ کی نوره ښوروا يا اوبه دومره ګډی کړل سی او واچول سی چې پرخولی سربيره يې اوبهيږی نودا طريقه هم فقهاؤ دپاکيدلو ليکلی ده اودويمه طريقه داده چې څومره هغه ښوروا ده هغومره اوبه دي په ښوروا کی واچوی اوپخی دي کړل سی چې هغه زياتی اوبه وسوزيږی دغه ډول دي دری واره وکړل سی نوهغه ښوروا به پاکه سی ([2]) قال في الشامي ومقتضاه انه على القول الصحيح تطهر الاواني ايضا بمجرد الجريان وايضاً فيه وقد مرّ ان حكم سائر المائعات كالماء في الاصحّ ([3]). فقط

دشهدو په بوتل کی موږک ولويدی نوهغه پاکيری او دهغه دپاکيدلو طريقه: **سوال**: (۴۴۸) دشهدوپه بوتل کی موږك ولويدی اومړ سوخو پړسيدلی او رژيدلی نه دی، نودغه شهد اوس پاکيدلی سی اوکه نه؟

جواب: دشهدو دپاکيدلوطريقه يې دفقهي په کتابونوکی داسی ليکلی ده چې دهغه شاتو

([1]) رد المحتار باب الانجاس مطلب فی طهارة بوله صلى الله عليه وسلم جلد اول ص۲۹۳. ظفير

([2]) ويطهر لبن وعسل ودبس ودهن يغلي ثلاثا (درمختار) قال فی الدر ولو تنجس العسل فتطهيره أن يصب فيه ماء بقدر فيغلي حتى يعود إلى مكانه الخ هكذا ثلث مرات (رد المحتار ج۱ ص۳۰۹ باب الأنجاس). ظفير

([3]) ردالمحتار باب المياه تحث قوله وكذا البئر وحوض الحمام ص۱۸۰ ج۱. ظفير

په اندازه اوبه دی پکښې ګډی کړل سی اوهغه دي پراور باندی کښيښودل سی تردی پوری چی اوبه وسوزيږی دری واره دي دغه ډول پاخه کړل سی نو شهد به پاك سی: ويطهر لبن وعسل ودبس ودهن يغلى ثلاثا الخ. درمختار. (۱) فقط

نجاست غليظه خفيفه جوړيږی اوکه نه؟ سوال: (۴۴۹) نجاست غليظه به په لړ پريمنځلو سره خفيفه وګرځی اوکه نه ترکمه حده پوری چی ونه پريمنځل سی غليظه به وی؟

جواب: دنجاست غليظه چی ترڅو پوری بالکل ازاله ونه کړل سی نوهغه به هم هغه ډول نجاست غليظه وی. (۲) فقط

ددرهم داندازی تشريح: **سوال:** (۴۵۰) ددرهم په عرض اومقدار معفو کي چی دهغه سره لمونځ کيږی زموږ لړ څه تردد موجود دی، آيا نجاست رقيقه که چيري ددرهم څخه کم پرجامه ياپر بدن باندی ولګيږی، دکم سره چی لمونځ کيږی هغه دنن سبا دسکی موافق څومره وی دروپی اوکه داته آنيز برابر اوکه دڅلور آنيز برابر؟ او دورغوی ژوروالی کم چی ددرهم مساحت فقهاؤ ليکلی او فرمايلی دی دنن سبا په سکو کی تقريبًا دکمی يوې برابر دی؟ مقصد داچي نرم نجاست دکم دلګيدلو سره سره چی لمونځ کيږی دنن سبا په سکو کی تقريبًا دکمی يوې برابر وګڼو؟

جواب: ددرهم په اندازه نجاست غليظه معاف دی، اومقدار ددی په نجاست کثيفه کي ديوه مثقال وزن يعنی څلور نيمی ماشی دی (۳) أفاد فی البحر ان الدرهم هنا غيره في باب الزكاة الخ شامی (۴) اوپه نجاست رقيقه کی په اندازه دژوروالی دورغوی کوم چی تقريبًا ديوی روپی دژوروالی برابردی ولي چی په شامی کی منقول دی چی ملا مسکين (رح) ددی دا تشريح کړيده چی په ورغوي کی اوبه واچول سی چی ورغوي خلاص اوخپور کړی نوپه څومره مقدارکی اوبه چی ودريږی هغه دورغوی ژوروالی دی، اوهمدا ورڅخه مراد دی نوظاهره ده چی هغه مقدار ديوی روپی برابر وی، تجربه يي هم بايد وکړل سی: قال ملا مسكين وطريقة معرفته ان تغرف الماء باليد ثم تبسط فما بقى فهو مقدار الكف الخ ص۲۱۱، باب الانجاس شامی جلد اول. (۵) فقط

(۱) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ص۳۰۹ جلد اول ط.س. ج۱ ص۳۱۸. ظفير
(۲) وكذا يطهر نجاسة مرئية بقلعها الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۳، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفير
(۳) وعفى الشارع عن قدر درهم ومقال عشرون قيراطا فى نجس كثيف له جرم (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ص۲۹۱ – ۲۹۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۱۲ – ۳۱۸). ظفير
(۴) ردالمحتار باب الأنجاس تحت قوله وهو مثقال جلد اول ص۱۹۳، ط.س. ج۱ ص۳۱۸. ظفير
(۵) ردالمحتار باب الأنجاس جلد اول ص۱۹۳، ط.س. ج۱ ص۳۱۸. ظفير

استعمال سوي لوټه بيا استعماليدي سی اوکه نه؟ سوال: (۴۵۱) په متیازو کی چی په کمه لوټه استنجاء کړي وی، هغه په لمر کی دوچولو څخه وروسته بیا استعمالولی سی اوکه نه؟

جواب: نه هغه به نه سی استعمالولی ([1]).

دګل قند په ډبی کی مری مرې سوې نوهغه به څنګه پاکیږی؟ سوال: (۴۵۲) دټیم په ډبی کی ګلقند ؤ کله چی په خرخولو خرڅولو پنځه شپږ سیر پاته سو نو په دي کی دوې مږی ولویدې اومږی سوی دمعلومیدلو څخه وروسته را وایستل سوی او وغورځول سوی یوه مږه ژوندی وه چی پخپله ووتله او وتښتیدله، نو معلومیږی چی هغه نوری هم په دغه ورځ مړی سوی دی، اوس چي ددغه ګلقند سربیره حصه لیری کړی نولاندی حصه خرڅه کړل سی اوکه نه؟ که چیري ټول ګنده سوی وی نو دپاکولو یی څه طریقه ده؟ ګلقند نری ؤ، اودا مږی مرې پکښی ډوبی سوی وی؟

جواب: دغه ګلقند ناپاکه سو، دداسی شیانو دپاکولو طریقه داسی لیکل سوی ده چی دهم هغه په مقدار اوبه په هغه کی واچوی اودومره به پوخ کړل سی چی اوبه وسوزیږی، اوهمدغه ډول دي دری واره وسی ([2]) خواهل تجربه ؤ لیکلی دي چی په دی طریقه بار بار پخولو سره شهدتریخ کیږی لیکن که چیري په ګل قندو کی شهد نه وی نوداسی به نه کیږی. فقط

ناپاکه غوړي څنګه پاک کړل سی؟ سوال: (۴۵۳) په غوړو کی سپی خوله ووهله دهغه دپاکولو څه طریقه ده؟ څرنګه استعمال کړل سی هم دارنګه نور دخوراك شیان لکه شیدی یابوره اغښل سوی یا وچ به څنګه پاکیږی؟

جواب: کم شیان چی وچ دی لکه وچ وړه یا نور، او یا لانده او کلك وي لکه یخی سوی غوړی یا اغښل سوی وړه یانور که چیري په دی ذکر سوو شیانوکی سپی خوله ووهله نوکم ځای ته چی دهغه سپی دخولی لوندوالی رسیدلی دی هغه لیری کول په کاردی ([3])

([1]) وتطهر ارض بخلاف نحو بساط بيبسها أي جفافها ولو بريح الخ (درمختار) اى حصير وثوب وبدن مما ليس ارضا ولا متصلا بها إتصال قرار (رد المحتار باب الأنجاس ج۱ ص۲۸۲). ظفير

([2]) ويطهر لبن وعسل ودبس ودهن يغلي ثلاثا الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۸، ط.س. ج۱ ص۳۳۴). ظفير

([3]) وبعض تقور (درمختار) اى تقوير نحو سمن جامد من جوانب النجاسة (رد المحتار باب الأنجاس ج۱ ص۲۹۱، ط.س. ج۱ ص۳۱۵) الفارة لو ماتت فى السمن إن كان جامدا قور ماحوله ورمى به والباقى طاهر يؤكل وإن مائعا لم يوكل وينفع به من غير جهة الأكل مثل الأستصباح ودبغ الجلد هكذا فى الخلاصة (عالمگيري مصري باب فى النجاسة فصل اول ج۱ ص۴۲، ط. ماجدية ج۱ ص۴۵). ظفير

اوکم شیان چې رقیق دی لکه شیدی تیل یاغیر کلك غوړی که چیري ناپاك سی نو دهغو دپاکولو طریقه فقهاؤ دالیکلی ده چې دهغو هم وزن اوبه په هغه کی یوځای کړل سی اوپوخ دي کړا سی تردی پوری چې اوبه وسوزی همدغه ډول دي دری واره وکړل سی، کذا فی الدرالمختار. (۱) فقط

دسپي وریښته پاک دي اوکه ناپاکه؟ سوال: (۴۵۴) دسپی وچ یا لانده ویښته پاك دی اوکه نه؟

جواب: پاك دی کمافی الدرالمختار ولا خلاف فی نجاسة لحمه وطهارت شعره الخ ج۱ ص۱۵۲. (۲) فقط

کم لوښي ته چې بنګی لاس وروړی هغه نه پلیتیږي: سوال: (۴۵۵) یوهندو دیوځای څخه اوبه راوړی اوپه کم شی کی چې هغه اوبه راوړی نوهغه ته کله کله لاس هم وروړی که چیري هغه اوبه په یوشی کی وایستل سی نو پاکیدی سی اوکه نه؟

جواب: ترڅو پوری چې ددغه لوښی ګنده کیدل معلوم نه وی نوتر هغه وخته پوری اوبه پاکي ګڼل په کاردي، هغه اوبه پاکی دی اوپه شك سره اوبه نه پلیتیږی دامسئله په کتابونوکي لیکل سوی ده. (۳) فقط

پرکمه جامه باندي چې وینه یا شراب ولویږي دهغې پاکي: سوال: (۴۵۶) که چیري پریوه جامه باندی دخنزیر وینه یاشراب ولویږي نوهغه باید څرنګه پاك کړی سی؟

جواب: په دری واره پریمنځلو سره هغه پاکیږی لکه څرنګه چې متیازی اولوی اودس ماتی په پریمنځلو سره پاکیږی دغه ډول به دشرابو او دخنزیر وینه پریمنځل کیږی او پاکیږی به. (۴) فقط

دحلال حیوان دویني تیل او دهغه حکم: سوال: (۴۵۷) چې دحــلال حیوان دحلالولو دوینی

---

(۱) ویطهر لبن وعسل ودبس ودهن یغلي ثلاثا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۸، ط.س. ج۱ ص۳۳۴). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ص۱۹۲ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۸. ظفیر

(۳) وقد مر أنهم لم یعتبروا إحتمال النجاسة الخ (رد المحتار فصل فی البئر ص۱۹۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۴) ویکره الاکل والشرب فی أوانی المشرکین قبل الغسل ومع هذا لو اکل او شرب فیها قبل الغسل جاز (عالمګیري کتاب الکراهة باب رابع عشر ص۳۵۸ ج۵، ط. ماجدیة ج۵ ص۳۴۷). ظفیر

(۴) وکذا یطهر محل نجاسة مرئیة بعد جفاف کدم بقلعها ای بزوال عینها واثرها ولو بمرة او بما فوق ثلاث فی الأصح الخ ویطهر محل غیرها ای غیر مرئیة بغلبة ظن غاسل لو مکلفا وإلا فمستعمل طهارة محلها بلا عدد به یفتی وقدر ذلك لموسوس بغسل وعصر ثلاثا او سبعا فیما ینعصر الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۲ – ۳۰۲، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفیر

څخه تيل وايستل سی نوهغه پاك دی اوکه نه؟ او دحلال سوی اومردار حيوان په وينه کی څه فرق دی؟

جواب: بهيد ونکی وينه دحلال حيوان هم ناپاکه ده اودهغه څخه چی کم تيل وايستل سی هغه به هم ناپاکه وی. ([1]) فقط

دټنگچر (الکحل) حکم: **سوال**: (۴۵۸) انگريزی دوايانی چی په ټنگچرو باندی مسمٰی دی ددغو استعمالول په طور ددوايی ياخرڅول او اخيستل شرعًا جائز دی اوکه نه؟ په دې دوايانو کی الکحل يعنی روح دشرابو گډيږی دالکحل دگډولو څخه غرض دهغو تحليل ياحفاظت دی، صرف ددارو او دوا په غرض په هغو کی الکحل نه گډيږی، اونه هم ديو بل غرض دپاره، ددی الکحل ډير مسکر (مستوونکي) نه دی، اوشراب که چيري سرکه سی نوشرعًا جائز دی اوکه نه؟

جواب: په کمو دوايانو کی چی مذکوره شراب گډ کړل سی هغه دارو حرام دی اواستعمال دهغو ناجائز دی (کذا صرح به الفقهاء) ([2]) ددارو دحفاظت په غرض دهغوی گډول هغه دارو ناپاکه کوی اونه يی حلالوی، دغه ډول ددی دوايی ډير نه مسکر کيدل سبب دحلالوالی اودطهارت نه سی کيدلی ځکه چی وارد دی: ما اسکر کثيره فقليله حرام، ([3]) داخاص دهغو شرابو په باره کی حکم دی، مطلب دادی چی دکمو شرابو ډير مسکروی دهغو لږهم حرام دی، نو يوڅاڅکی دشرابو هم حرام اونجس دی اوپه کمو داروگانوکی چی داگډ کړل سی هغه هم حرام اونجس دی. ([4]) او دشرابو څخه په سرکه جوړيدلو کی تبدل دعين کيږی نو دهمدی وجه څخه هغه جائزده اوشراب چی په داروکی گډ سی نوپه حقيقت کی تبدل نه راځی په شامی کی دی: فصار ملحًا الخ فان ذلك کله انقلاب حقيقة الی اخرٰی لا مجرد انقلاب وصف الخ ([5]) ص۲۱۰ شامی جلد اول. فقط

نصارٰی چی په کم لوښی کی دخنزير غوښه وخوری هغه به په پريمنځلو سره پاك سی اوکه نه؟ **سوال**: (۴۵۹) په کم لوښی کی چی نصارٰی دخنزير غوښه وخوری نو په پريمنځلو سره

([1]) ودم مسفوح من سائر الحيوانات إلا دم شهيد مادام عليه الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ص۲۹۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۹). ظفير

([2]) اختلف فی التداوی بالمحرم وظاهر المذهب المنع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار قبيل فصل فی البئر ج۱ ص۱۹۴، ط.س. ج۱ ص۲۱۰). ظفير

([3]) مشکوة باب بيان الخمر ووعيد شاربها ص۳۱۷ فصل ثاني. ظفير

([4]) وبه يعلم ان ما يستقطر من وردی الخمر وهو المسمی بالعرقی فی ولاية الروم نجس حرام کسائر اصناف الخمر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ص۳۰۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۲۵). ظفير

([5]) رد المحتار باب الأنجاس ج۱. ظفير

پاك كيږي اوكه نه؟

جواب: په پريمنځلوسره پاك كيږي ([1]). فقط

دحيوان دتريخې استعمال په طور دمالش صحيح دي اوكه نه؟ سوال: (۴۲۰) دحيوان تريخې كه چيري په يوه دوايي كې واچول سي اوهغه دوايي په خوراك كې استعمال نه كړل سي، بلكه دبدن دمالش وي نوجائز دي اوكه نه؟ اوبدن به ناپاكيږي اوكه نه؟

جواب: په درمختار كې دي: مرارة كل حيوان كبوله ([2]) نو لكه چې څنګه متيازې دماكول اللحم حيوان نجسې دي تريخې يې هم نجس دي او تداوي دضرورت په وخت كې ورباندې صحيح ده، نو دلمانځه په وخت كې دي هغه ځاى بايد پريمنځل سي. فقط

ددوبيانو پرجامو چې څاڅكې ولوېږي آيا په دغو جاموكې هغوى لمونځ كولى سي؟ سوال: (۴۲۱) دلمانځه دپاره ددوبيانو دطهارت څه طريقه په كارده؟ ظاهره ده چې څاڅكې دهغوى پربدن باندې لوېږي چې قطعي ناپاكه اوپه كثرت سره وي، اوكله چې هوا تېزه وي نو دجامو اوبه دهغوى پربدن باندې په يومعتد به مقدار باندې لوېږي آيا هغوى په همدې حيثيت باندې لمونځ كوي اوكه نه دهر لمانځه په وخت كې بدن اوكمې جامې چې يې اغوستې دي هغه به پاكوي؟

جواب: دمسئلې جواب دادى چې دعموم بلوٰى په وجه ددوبيانو پرجامو اوبدن باندې چې كم څاڅكې دپريمنځل كېدونكو جامو پرتخته باندې دوهلو په وجه ورغورځې هغه معاف دي لكه چې په شامي كې دي: وفي الفتح وما ترش على الغاسل من غسالة الميت مما لا يمكنه الامتناع عنه مادام في علاجه لاينجسه لعموم البلوى ([3]) الخ ، او ددوبيانو دجامو دطهارت بله وجه داهم كېدى سي چې دپريمنځل سوي جامې پاكې او ناپاكې پخپله مشكوكه اومشتبه ده اوغير متعين ده او ددې قاعدې په اساس چې (اليقين لايزول بالشك) ([4]) په شك سره دنجاست حكم نه كيږي. فقط

په كمه ګوره كې چې سپې خوله ووهي نوهغه به څنګه پاكيږي؟ سوال: (۴۲۲) په شكره يعني ګوړه كې چې سپې خوله ووهي او وئې خوري نوهغه به څنګه پاكيږي ؟

([1]) والنجاسة ضربان مرئية وغير مرئية فما كان منها مرئية فطهارتها بزوال عينها لأن النجاسة حلت المحل باعتبار العين فتزول بزواله الخ وما ليس بمرئي فطهارته أن يغسل حتى يغلب على ظن الغاسل أنه قد طهر (هدايه باب الأنجاس ص۷۴ ج۱). ظفير

([2]) الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في الأستنجاء ص۳۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۴۹. ظفير

([3]) رد المحتار باب الأنجاس جلد اول ص۳۰۰، ط.س. ج۱ ص۳۲۵ مطلب العرقى الذي يستقطر الخ. ظفير

([4]) الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵. ظفير

جواب: دهغې دپاکولو طريقه فقهاؤ داسې ليکلې ده چې دهغه گوړې برابر به په هغه کې اوبه واچوي اوهغه اوبه به وايشول سې، دغه شان په درې واره کولو سره به هغه شکره پاکه سي، كذا في الدرمختار والشامي. (۱) فقط

دخنزير دبدن سره چې جامه ولګيږي نوهغه پاکه ده اوکه ناپاکه؟ سوال: (۴۲۳) په عوامو کې دامشهوره ده چې دچا دجامې پريو طرف باندې خنزير ولګيږي يائې ديوې پښې سره ولګيږي نودټولې جامې اوټول بدن پريمنځل په کار دي، دا صحيح ده اوکه نه؟

جواب: داخبره غلطه مشهوره ده، دخنزير بدن که چيري وچ وي او دانسان دجامې يا دبدن سره ولګيږي نوهغه نه پليتيږي نو دپريمنځلو او دلمبلو ضرورت نسته، اوکه چيري دخنزير بدن لوند وي او ديو شي سره ولګيږي نوصرف دهم هغه ځای پريمنځل کافي دي. (۲) فقط

دشيدو خوړونکي ماشوم متيازې ناپاکه دي: سوال: (۴۲۴) دولادت څخه وروسته ترڅو پورې چې ماشوم دڅو ورځو سوې نه وي نو دماشوم دمتيازو څخه ځان ساتل بې حده ګران اوسخت دي نوکه چيري ښځه دويمه جامه هم دلمونځ دپاره وساتي خوبدن ته يې هروخت متيازې ورغورځي نوپه داسې وخت کې څه وکړي، په عواموکې مشهوره ده چې دماشوم متيازې پاکې دي داصحيح ده اوکه غلطه؟

جواب: دماشومانو متيازې پاکې نه دي، بلکه دلويو انسانانو دمتياوز په ډول نجاست غليظه دي او ددې څخه بچوالې او پربدن باندې ياپر جامه باندې ددرهم دمقدار څخه زيات دمتيازو دلګيدلو په صورت کې پريمنځل يې ضروری دي. (۳) فقط

په نجاست کې لړل سوې برخه چې دوچيدلو څخه وروسته په خولې سره لنده سي نوڅه حکم يې دی؟ سوال: (۴۲۵) دمقاربت کولو اوداندام دوچيدلو څخه وروسته يې پاکه جامه واغوسته نودهغه څخه وروسته خوله وسوه او دجامې سره ولګيده نوجامه پليته سوه اوکه نه؟ پرجامې ياپه خاورينو لوښو کې نجاست ولګيدی يا لوند سو اوبيا وچ سو چې

---

(۱) ويطهر لبن وعسل ودبس ودهن يغلي ثلاثا (درمختار) ولو تنجس العسل فتطهيره أن يصب فيه ماء بقدره فيغلي حتى يعود إلى مكانه والدهن يصب عليه الماء فيغلي فيعلوا الدهن الماء فيرفع بشيء هكذا ثلاث مرات آه (رد المحتار باب الأنجاس ص۳۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۳۴). ظفير

(۲) اما النجاسة الغليظة الخ كالعذرة الخ ولحم الخنزير وسائر أجزائه هذه الأشياء نجاستها معلومة فى الدين بالضرورة لا خلاف فيها إلا شعر الخنزير لما ابيح الأنتفاع للخرز ضرورة قال محمد رحمه الله لو وقع فى الماء لاينجسه (غنية المستملي ص ۱۴۴). ظفير

(۳) قدر الدرهم ومادونه من النجس المغلظ كالدم والبول والخمر الخ جازت الصلوة معه وان زاد لم تجز (هدايه) قوله والبول ولو من صغير لم يأكل ملتقى الأبحر (حاشيه هدايه باب الأنجاس ص۷۱ ج۱). ظفير

اثر ئی باقی پاته نه سو، آیا دا شیان بغیر دپریمنځلو او دوچیدلو څخه وروسته پاك دی اوکه ناپاکه دی؟

جواب: په دی صورت کی به جامه نه پلیتیږی ([۱]) اوخاورین لوښی که چیري پلیت سول نوهغه به په پریمنځلو سره پاکیږی، اوصرف په وچیدلو سره به نه پاکیږی ([۲]). فقط

په دوبی چی جامه پریمنځی نوپاکه سوه اوکه نه؟ **سوال**: (۴۲۶) کم دوبیان چی طهارت نه پیژنی په هغوی باندی جامه په پریمنځلو سره پاکیږی اوکه نه؟

جواب: پاکیږی. فقط

په کښتۍ کی چی داودس مات سره ګډې سوی اوبه راسی هغه پاکی دی اوکه ناپاکی؟

سوال: (۴۲۷) په بعضو ځایونوکی په کوچنۍ کښتۍ کی خلګ ناست وی اومتیازی او لوی اودس مات کوی اوکمی اوبه چی همیشه په کښتۍ کی وی دهغو سره اودس مات یوځای سی نوهغه اوبه پاکی دی اوکه ناپاکی؟ اوکم خلګ چی دغه اوبه دباندي ته راوباسی او لاسونه نه پریمنځی نو دهغوی لوښی پاك دی اوکه نه؟

جواب: که چیري کښتۍ ته دسنید څخه اوبه ځی او راځی نوبیا دکښتۍ اوبه هم پاکی دی اوپه دي کی وهم کول په کارنه دی ([۳]) اوکه بالفرض اوبه دکښتۍ ناپاکه وی نوبیا هم دهغوی لوښی بغیر ددې څخه چی دهغوی په لوښی کی نجاست لګیدل ثابت نه سی نوناپاکه ګڼل یې نه دی په کار اوخوراك څښاك په هغه کی صحیح ([۴]) دی. فقط

لاس چی په شرابو کی ننه باسی نو په نوکانو پریکولو سره به لاس پاك سی: **سوال**: (۴۲۸) که چیري لاس یی په شرابو کی ډوب کړی نو دنوکانو په پریکولو سره به دلاس پاکول ضروری وی اوکه نه؟

جواب: که چیري لاس یی پاك کړی او پریمنځلی یی وی نو دنوکانو دپریکولو او دوباره دلاس پریمنځلو ضرورت نسته. ([۵]). فقط

([۱]) نام فعرق او مشی علی نجاسة إن ظهر عینها تنجس وإلا لا (درمختار) قوله إن ظهر عینها المراد بالعین مایشمل الأثر لأنه دلیل علی وجودها الخ (رد المحتارباب الإستنجاء ص۳۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۳۴۶). ظفیر

([۲]) والنجاسة ضربان مرئیة وغیر مرئیة فما کان منها مرئیة فطهارتها بزوال عینها لأن النجاسة حلت المحل باعتبار العین فتزول بزواله الخ وما لیس بمرئي فطهارته أن یغسل حتی یغلب علی ظن الغاسل أنه قد طهر (هدایه باب الأنجاس ص۷۴ ج۱). ظفیر

([۳]) ثم المختار طهارة المتنجس بمجرد جریانه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ص۱۸۰ ج۱. ط.س. ج۱ ص۱۸۷). ظفیر

([۴]) قال الفقهاء إن الیقین لایزول بالشك (هدایه). ظفیر

([۵]) فان کانت مرئیة فطهارتها زوال عینها الخ وإن لم تکن النجاسة مرئیة الخ یغسلها حی یغلب علی ظنه أنه =

په کمه ګوړه کی چی مږه ولویده اومږه سوه نوهغه پاکه ده اوکه ناپاکه؟ **سوال**: (۴۶۹) یو لوښی ددوه دری منه تور قند یعني ګوړي څخه کمه چی ډیره نرمه وه ډك دی ددغه لوښی څخه دتورقند دتقسیمولو په وخت یوه مږه چی رژیدلی وه راووتله چی پکښی لویدلی اومږه سوی وه، نو آیا دغه ګوړه پاکه ده اوکه ناپاکه ده؟ که چیري ناپاکه وی نوکمه ګوړه چی دمږی دراوتلو څخه مخکی تقسیم سوی وی دهغی څه حکم دی؟

جواب: دتورقند او ګوړی څخه چی کمه مږه سوی مږه راووتله نو ددغه تورقند څخه هماغه اندازه ګوړه ناپاکه سوه کمه چی ددغه مږی سره نژدې ده، لکه چی دیخی سوو غوړو وغیره همدغه حکم دی، اوتور قند اګرکه نرم وی لیکن هغه به درقیق او دبهیدونکی شی په حکم کی نه داخلیږی اوداهم ظاهره ده چی غوړي دیخوالی سره نرم هم وی، نودغه تورقند چی پرمږی چارچاپیره دی هغه اندازه دي ورڅخه جلا کړل سی هغه ناپاکه دی اوپاته نور پاك دي، په همدې ډول یې په شامي کي دمطهراتو دجملې څخه یو تقویر هم ذکر کړیدی چي دهغه معنی داسي ده: في القاموس قار شيء قطعه من وسطه قطعاً مستديرا كقوره الخ سمن جامدا، قوله: تقور ای تقوير نحن سمن جامد من جوانب النجاسة الخ وخرج بالجامد المائع وهو ما ينضم بعضه الى بعض فانه ينجس كله الخ (۱) په بل ځای کي دي: وتقور نحو سمن جامد بأن لا يستوى من ساعته الخ (۲) ص۲۰۹ – ۲۱۰، د: بأن لا يستوى من ساعته دعبارت څخه داهم واضحه سوه چی دمینځ څخه دڅه حصې په ایستلو سره باقی نور اطراف دي فوراً سره یوځای سی، نوکله چی مږی ته دنژدی څخه بغير نور ټول قند پاك دی نو کم مقدار چی دیو طرف څخه چاته ورکړل سو هغه هم پاك دی. فقط

په کم لوښی کی چی ماشوم ناپاکه لاس ووهی نوپه هغه لوښی کی خوراک او څیښاک جائز دی اوکه نه؟ **سوال**: (۴۷۰) که چیري ولیدل سی چی ماشوم دمتیازو ککړ لاس په لوښی کي ووهی، لیکن کور والاوو دسستی په وجه لوښی پاك نه کړی، اوپه همغه لوښی کی یی ډوډی ورکړه، یا یی په ناپاکه لاس ډوډی پخه کړه، او وریی کړه نوهغه ډوډی یا په لوښی کی اوبه څښل جائز دی دعموم بلوٰی په وجه اوکه نه؟

جواب: کم خوراك چی په دغه لوښی کی وکړل سو اويا وڅښل وسو په غفلت او ناخبري سره نو هغه معاف دی، لیکن دبیا لپاره ددغه لوښي پاکول پکار دي، داسي نه کوي چي

= قد طهر (غنية المستملي ص۱۸۰). ظفير

(۱) ردالمحتار باب الانجاس ج۱ ص۲۹۱، ط.س. ج۱ ص۳۱۲. ظفير

(۲) ردالمحتار باب الانجاس ج۱ ص۲۹۰، ط.س. ج۱ ص۳۱۲. ظفير

دمشاهدی باوجود دعموم بلوٰی په وجه نه دا ناپاك لوښی پاك كړی او نه نور اشيآء (1). فقط

دشرمګاه څخه چې کم رطوبت ووزی هغه نجس دی اوکه نه؟ سوال: (۴۷۱) دمقاربت په وخت کی چې دښځی دشرمګاه څخه کم رطوبت را ووزی هغه نجس دی اوکه نه؟ که چیري نجس وی نوغلظه دی اوکه خفیفه؟ بل داچې کمی جامی ته هغه رطوبت ورسیږی نو دپریمنځلو څخه بغیر دهغه استعمالول څنګه دی؟

جواب: دښځی دخاص ځای څخه چې کم رطوبت دهمبستری په وخت کی وزی هغه نجاست غلیظه دی کم اندام یا جامی ته چې هغه ولګیږی دهغه پریمنځل ضروری دی. (2) فقط

دجولاګانو په ځای کي کالې که په ناولو اوبوکی لانده کړل سی نو پاک دی اوکه ناپاک؟

سوال: (۴۷۲) جولاګان وایی چې موږ دلته کمه کپړه جوړؤ نوهغه په ناپاکه اوبوکی لنده کړو، نودا کپړه داخیستلو څخه وروسته پاکه ده اوکه ناپاکه؟ او په دی باندی لمونځ صحیح دی اوکه نه؟

جواب: که په خاصو او معلومو کالوکی داعلم وسی چې په دي کی نجاست لګیدلی دی نوښکاره خبره ده چې هغه ناپاکه ده نو ضروری ده چې داجامی پاکی کړل سی او وپریمنځل سی، مګر عامی جامی کمی چې خرڅول کیږی پردی تولو جامو باندی دنجاست حکم نه سو لګولی اودا خبره هم ښکاره ده چې پریوه خاصه جامه علم نه سی راتلای نودا جامی به پاکی ګڼل کیږي: مَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ، (3) اوپه حدیث پاك کی دی: اِنَّ الدِّيْنَ يُسْرٌ (4) او فقهاؤ ویلی دی: اليقين لا يزول بالشك. (5) فقط

---

(1) لو ادخل الصبى يده فى الإناء إن علم انها طاهرة بان كان معه من يراقبه جاز التوضي بذلك الماء وإن علم أن فيها نجاسة لم يجز (غنية المستملي ص ۱۰۱). ظفير

(2) وفى المجتبى اولج فنزع فأنزل لم يطهر إلا بغسله لتلوثه بالنجس انتهى اى برطوبة الفرج فيكون مفرعا على قولهما بنجاستها (درمختار) قوله برطوبة الفرج اى الداخل بدليل قوله اولج واما رطوبة الفرج الخارج فطاهرة اتفاقا اهـ وفى منهاج الإمام النووى رطوبة الفرج ليست بنجسة فى الأصح قال إبن حجر فى شرحه وهى ماء ابيض متردد وبين المذى والعرق يخرج من باطن الفرج الذى لايجب غسله بخلاف ما يخرج مما يجب غسله فانه طاهر قطعا ومن وراء باطن الفرج فانه نجس قطعا لكل خارج من الباطن كالماء الخارج مع الولد او قبيله (رد المحتار باب الأنجاس ص ۲۸۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۱۲). ظفير

(3) سورة الحج : ع ۱. ظفير

(4) بخاري باب الدين يسر ص۱۰ ج۱. ظفير

(5) الأشباه والنظائر مع شرح حموي القاعدة الثالثه ص۷۵. ظفير

ددرختو څخه غورځيدلي پاڼې او دسيند په خوا کې ختې پاکې دي اوکه نه؟ **سوال**: (الف\۴۷۳) پرمځکه باندې پاڼې وغيره پرتې وي اوخلګ په ناولو پښو ګرځي نوهغه پاڼې او ختې پاکې دي اوکه نه؟

جواب: هغه ختې او پاڼې پاکې دي ترڅو پورې چې معلومه نه سي چې نجاست او ګندګی پر لګيدلې ده. (۱) فقط

پرناولې باندې چې خوله راسي نو هغه پاکه ده اوکه نه؟ **سوال**: (ب\۴۷۳) پرناولې بدن باندې چې دنجاست څخه وروسته خوله راسي پاکه ده اوکه نه؟

جواب: فقهاؤ دا خوله پاکه ليکلې ده. (۲) فقط

په ناولو اوبو باندې چې وپريمنځل سي او بيا يو وار په پاکو اوبو باندې وپريمنځل سي نودا پاک دي اوکه نه؟ **سوال**: (۱\۴۷۴) په ناولو اوبو باندې يې يووار جامې وپريمنځلې او بيا يې په تالاب کې ډوبې کړې اوبيا يې ونښتيځلې نودا پاکې سوې اوکه نه؟

اول يې په ناپاکو اوبو باندې وپريمنځله او بيايې په تالاب کې ډوبه کړه نوڅه حکم لري؟

سوال: (۲\۴۷۵) ناولې بدن چې دناولو اوبو سره يوځای سي اوبيا په سيند کې يا تالاب کې غوټه ووهي نوپاك سو اوکه نه؟

کمې جامې چې په متيازو باندې ګنده سي اوبيا په تالاب کې غوټه کړل سي نوپاکې سوې اوکه نه؟ **سوال**: (۳\۴۷۶) په متيازو وغيره باندې چې جامې يابدن لوند سي او بيايې په تالاب کې غوټه کړې نودا به پاك سي اوکه نه؟

جواب: ۱: که دسيند اوبه ښې ډيرې پر واچول سي او بيا ونښتيځل سي نوصفا کيږي. (۳) فقط

۲: په يو وار په سيند يا په نهر کې په غوټه وهلو باندې بدن صفا کيږي. (۴) فقط

---

(۱) اليقين لا يزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵) وطين شارع وبحار نجس وغبار سرقين ومحل كلاب وانتضاح غسالة لا تطهر مواقع قطرها عفو (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۲۹۹، ط.س. ج۱ ص۳۲۵). ظفير

(۲) وحكم عرق كسؤر (درمختار) اى العرق من كل حيوان حكمه كسؤره لتولد كل منهما من اللحم (ردالمحتار فصل فى البئر ج۱ ص۲۱۰، ط.س. ج۱ ص۲۲۸) فسور ادمى مطلقا ولو جنبا او كافرا او امراة الخ طاهر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار مطلب فى السؤر ج۱ ص۲۰۵، ط.س. ج۱ ص۲۲۲). ظفير

(۳) ويطهر محل غيرها اى غير مرئية لغلبة ظن غاسل لو مكلفا وإلا فمستعمل طهارة محلها بلا عدد يفتى الخ ما لو غسل فى غدير او صب عليه ماء كثير او جرى عليه الماء طهر مطلقا بلا شرط عصر وتجفف وتكرار غمس هو المختار (درمختار) ولو غمس الثوب فى نهر جار مرة وعصر يطهر (ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۵ – ۳۰۸، ط.س. ج۱ ص۳۳۱ – ۳۳۳). ظفير

(۴) وكذا يطهر محل نجاسة الخ مرئية الخ بقلعها اى بزوال عينها وأثره ولو بمرة (درمختار) يعنى إن زال عين =

۳: په ننښتيځلو سره صفا كيږي (۱). فقط

په ګندګي ككړ لاس چي په منګي كي پريول رواج وي اوپه دي منګي كي نوري اوبه راوړل سي نو اودس په جائز دي اوكه نه؟ سوال: (۴۷۷\۱۱) يوى ښځى په ګندګيو باندى ككړ لاس په ماتيږ كي پريمينځى او بيايې په همدغه لاسونو باندى ډوډى پخه كړه كه څه هم چي وليدل نه وه سوه خو دقرآئنِ قويه څخه معلومه وه چي نوري ټولى ښځى همدا ډول كوى نو دا ډوډۍ خوړل يا دهمديې په لاس په راوړل سوو اوبو باندى اودس جآئز دى اوكه نه؟

كه تالاب نژدى وي نو دتالاب څخه اودس كول پكار دي؟ سوال: (۴۷۸\۱۲) كه تالاب نژدى وى نوپه ديې صورت كى هروخت په تالاب كى اودس كول جائز دى اوكه نه؟

جواب: ۱: كه ليدل سوي نه وى نو دا ټول كارونه صحيح دى. (۲) فقط

۲: خوښه يې ده كه دتالاب څخه اودس كوى اوكه دمنګى څخه ټول صحيح دى. (۳) فقط

دمتيازو څخه وروسته په لوښو باندي په لاس وهلو سره نه ناولي كيږي: **سوال**: (۴۷۹) يو څوك متيازى وكړى او استنجاء يى وكړه دمنګى څخه يى اوبه واخيستى اوپاكي يې كړې آيا داستنجاء څخه مخكى يى چى په لوښى باندى لاس وهى نو هغه لوښى پاك دى اوكه نه؟

جواب: پاك دى. فقط

دمحتلم او دجنب لاس پاك دي اوچي كم لوښي ته لاس وروړي هغه هم پاك دي: **سوال**: (۴۸۰) جنب يا محتلم چى دغسل كولو څخه مخكى كم لوښى ته لاس وروړى نوهغه پاك دى اوكه نجس سو؟ او ددواړو لاس پاك دى اوكه نه ديوه؟

= النجاسة بمرة واحدة سواء كانت تلك الغسلة الواحدة في ماء جار او راكد كثير (رد المحتار باب الأنجاس ص۳۰۳ ج۱). ظفير

(۱) أصاب البول ثوبه فغمسه مرة واحدة فى نهر جار وعصره يطهر وهذا قول ابى يوسف ايضا فى غير ظاهر الرواية (غنية المستملي ص۱۸۲). ظفير

(۲) اليقين لايزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵) ولو شك فى نجاسة ماء او ثوب الخ لم يعتبر (درمختار) فى التاتارخانية من شك فى إنائه او ثوبه او بدنه اصابته نجاسة اولا فهو طاهر ما لم يستيقن الخ وكذا ما يتخذه اهل الشرك او الجهلة من المسلمين كالسمن والخبز والأطعمة والثياب (رد المحتار قبيل أبحاث الغسل ج۱ ص۱۴۰، ط.س. ج۱ ص۱۵۱) پاته كله چي يقين وي نو هغه به ناپاكيږي او پاكول يې ضروري دي: وروث وخثى أفاد بهما نجاسة خرء كل حيوان غير الطيور وقال مخففة وفى الشرنبلالية قولهما اظهر (درمختار). ظفير

(۳) وتجوز الطهارة الحكمية بماء مطلق وهو ما يسمى فى العرف ماء من غير إحتياج تقيد فى تعريف ذاته الخ طاهر (غنية المستملي ص۸۲). ظفير

جواب: پاك دى. (۱) (كه چيري په لاس كي يې ګندګى لګيدلى وى لكه منى وغيره نو ناپاكه به وى. ظفير). فقط

په باران کی چی دځپلیو خاوره دجومات پرفرش باندی وبهیری نو څه حکم دی؟ سوال:
(۴۸۱) يووخت دجمعي ورځ وه كم وخت چي په جامع جومات كى جماعت ودريدى نوباران شروع سو، خلګو ځپلۍ دجومات پرفرش باندى ايښى وى وروسته دجومات پرفرش باندى دځپليو اوبه وبهيدى كله چى باران ودريدى نوخلګ ولاړل بيا ترمانښامه پورى باران ونه سو، كه چيري نوري اوبه بهيدلى واى نوفرش به پاك سوى واى، نو خلګو دمازديګر او ماښام لمونځ په همدغه مسجد كي وكى او فرش لوند وو، تر اودس وروسته يې پردغه لوند فرش باندى پښى كښيښودى او بيايې دجومات پر صفونو او ځينو باندى پښې كښيښودلى، آيا هغه صفونه او ځيني پاكي دى اوكه نه؟
جواب: هغه صفونه او ځيني پاكي دى. (۲) فقط

غير مرئى نجاست چى پركمه جامه لګيدلى وى هغه چى څوساعته په جاري اوبو كى ايله كړل نو پاک به سي: **سوال**: (۴۸۲) پركمه جامه باندى چى غير مرئى نجاست وى هغه به ترڅومره ساعتونو دپاره په روانو اوبو كى په پريښودلو سره پاكه سى؟
جواب: په درمختار كى دى: اما لو غسل في غدير او صب عليه ماء كثير او جرى عليه الماء طهر مطلقا (۳) اوپه كبيري شرح منيه كي دي: والذي في فتاوٰى قاضيخان والخلاصة وعامة الكتب ترك فيه يوماً وليلة وهو الصحيح ولعل الالف سقطت في تلك العبارة والاصل يوماً او ليلةً ولا بالواو فاذا ترك يوماً او ليلةً في النهر حتٰى جرٰى الماء عليه يطهر الخ (۴) ددې څخه معلومه سوه چى يو شى په جارى اوبوكى يوه ورځ يا يوه شپه پريښودل سى نوهغه پاكيږى. فقط

دكم تالاب پر شا اوخوا چى ګندګى وى اوهغه دباران سره وروبهيږى نو هغه تالاب به پاک پاته سي اوكه نه؟ سوال: (۴۸۳) پر يو تالاب چاپيره خلګ اودس مات كوى او په هغه كى

---

(۱) لأن الجنابة لاتحل العين (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۲۱) عن ابى هريرة قال لقينى رسول الله ﷺ وانا جنب فأخذ بيدى فمشيت معه حتى قعد فانسللت فأتيت الرحل فاغتسلت ثم جئت وهو قاعد فقال اين كيت يا أباهريرة فقلت له فقال سبحان الله إن المومن لا ينجس هذا لفظ البخاري (مشكوة باب مخالطة الجنب وما يباح له ص۴۹) فيه جواز مصافحة الجنب ومخالطته وهو قول عامة الفقهاء واتفقوا على طهارة عرق الجنب والحائض، مرقاة (حاشيه مشكوة ص۴۹). ظفير
(۲) اليقين لا يزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة). ظفير
(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ص۳۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۳۳. ظفير
(۴) غنية المستملي فصل فى الآسار ص۱۸۳ ج۱. ظفير

دغه اوبه جَمعه كيږی نوهغه اوبه پاكی دی اوكه نه؟

جواب: كله چی هغه تالاب په لسوكی دی يا ددې څخه زيات دی او دنجاست بوی وغيره پكښی نه ليدل كيږی نوهغه شرعًا پاك دی. (١) فقط

په نجاست كی په اچولو سره دتياری كړل سوی دوايی څه حكم دی؟ سوال: (۴۸۴) په يوه خاورين منګی كی چی يوڅو دوايانی كښيښودل سی اومنګی داوبو څخه ډك كړل سی او اور تر هغه لاندی بل كړل سی اوداسی كنده وكيندله سی چی منګی دهغه په ژوروالی كی ځای سی، او دمنګی څخه لاندی اوسربيره داس خاشې كښيښودل سی اوپر داسی ځای باندی دغه منګی كښيښودل سی كم ځای چی شبنم يعني پرخه اولمر دواړه راتلای سی پنځلس ورځی وروسته هغه منګی را وايستل سی او دهغه دوايانو عرق را وايستل سی دداسی دوايانو په استعمال سره خو به دمسلمانانو دپاره څه نقص نه وي؟

جواب: خاورين منګی چونكه نجاست راكشوی اواثر دهغه دننه رسيږی دهمدی وجه څخه هغه دوايانی پليتی سوی، استعمال دهغو صحيح نه دی خو دهغه شرط سره كم چی دحرامو دوايانو داستعمال دجواز دپاره فقهاؤ ليكلی دی، مثلا داچی مسلمان حاذق طبيب هغه مفيد وبولی او دهغه بدله دوا دحلال شی څخه نه سی كيدی، وفيه تفصيل وخلاف مذكور فی كتب الفقه. (٢) فقط

دناپاكی جامی دپاكولو څه طريقه ده؟ سوال: (۴۸۵) پنده جامه كه چيري لږ څه ناپاكه سی اوپه نښتيځلو كی يې څه تكليف نه وی نو هغه به په نښتيځلو سره پاكه سی اوكه نه؟

جواب: په دی صورت كی به په درې واره پريمنځلو او نښتيځلو سره هغه جامه پاكه سی. (٣) فقط

سپياكه چی په څاه كی ولويږی اوهغه اوبه په سقاوه كی واچوی بيا هغه صفا كړی نو هغه پاك سو اوكه نه؟ سوال: (۴۸٦) سپياكه په څاه كی ولويده او دهغه اوبه چی په سقاوه كی څومره وی وايستل سوې نو دسقاوی دپاكوالی به څه صورت وی؟

جواب: په دغه سقاوه كی دي اوبه واچول سی اودهری خوا څخه دي هغه پريمنځی اوهغه

(١) إن الغدير العظيم كالجاري لايتنجس إلا بالتغير من غير فصل هكذا فی فتح القدير (عالمگيري كشوري الباب الثالث فی المياه ج١ ص١٢، ط. ماجدية ج١ ص١٨). ظفير

(٢) إختلف في التداوی بالمحرم وظاهر المذهب المنع كما رضاع البحر لكن نقل المصنف ثم وهنا عن الحاوی وقيل يرخص إذا علم فيه الشفاء ولم يعلم دواء اخر كما رخص الخمر للعطشان وعليه الفتوی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المياه ج١ ص١٩۴، ط.س. ج١ ص٢١٠). ظفير

(٣) وإن كانت غير مرئية يغسلها ثلاث مرات كذا فی المحيط ويشترط العصر فی كل مرة فيما ينعصر ويبالغ فی المرة الثالثة الخ (عالمگيري كشوري الباب السابع في النجاسات ج١ ص۴٠، ط. ماجدية ج١ ص۴٢). ظفير

اوبه دي ورڅخه وایستل سی، دغه ډول دي دری واره وکړل سی سقاوه به پاکه سی. (۱)

دسپی ناړی اوبدن نجس دي اوکه نه؟ **سوال**: (۴۸۷) دسپی ناړی نجسی دی اوکه بدن یی هم؟

جواب: لاړی یی نجسی دی او دده سربیره بدن نجس نه دی علی الصحیح. (۲) فقط

دمشرکانو او دکفارو اندامونه نجس نه دي: **سوال**: (۴۸۸\۱) ایا دمشرکانو اودکفارو بدنونو ته ناپاکه ویل په کاردی اوکه نه؟ اوکه دهغوی ناپاکی داعتقاد په نظر سره ده؟

دمشرکانو په پسخوردي سره اودس اوغسل جائز دي اوکه نه؟ **سوال**: (۴۸۹\۲) که چیری دهغوی دبدن ظاهری نجاست زائل سی نو دهغوی په پسخورده اوبو سره اودس اوغسل جائز دی اوکه نه؟

پاکی اوبه مشرکان پاکولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۴۹۰\۳) آیا طاهری اومطهری اوبه دمشرکانو او دکافرانو بدنونه په کمو کي چی هغه دټیټی درجی خلګ هم داخل دی کمو ته چی بنګی اوچمیار ویل کیږی اونور هم، دوی پاکولی سی اوکه نه؟

جواب: ۱: په (انما المشرکون نجس) کی نجاست داعتقاد مراد دی په ظاهره دهغوی بدن په پریمنځلو سره صفا کیږی.

۲ – ۳: او دهغوی پسخورده پاکه ده، اوپه هغی باندی غسل او اودس صحیح دی اوپاکی اوبه هغوی پاکولی سی. (۳) فقط

غیر سائله وینه بدن او اوبه وغیره ناپاکه کوی اوکه نه؟ **سوال**: (۴۹۱) دم غیر سائل اوبه، جامی، بدن وغیره ناپاکه کوی اوکه نه؟

جواب: صحیح اومفتی به داده چی دم سائل اوبه اوبدن جامه اونور نه پلیتوی لکه څنګه

---

(۱) حاصله کما فی البدائع أن المتنجس إما أن لایتشرب فیه اجزاء النجاسة اصلا کالأواني المتخذة من الحجر والنحاس والخزف العتیق او یتشرب فیه قلیلا کالبدن والخف والنحل او یتشرب کثیرا ففی الأول طهارته بزوال عین النجاسة المرئیة او بالعدد علی مامر وفی الثاني کذلك لأن الماء یستخرج ذلك القلیل فیحکم بطهارته وأما فی الثالث فإن کان مما یمکن عصره کالثیاب فطهارته بالغسل والعصر إلی زوال المرئیة وفی غیرها بتثلیثهما وان کان مما لاینعصر کالحصیر الخ (ردالمحتار باب الأنجاس ص۳۰۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۳۲). ظفیر

(۲) واعلم انه لیس الکلب بنجس العین عند الإمام وعلیه الفتوی الخ ولو اخرج حیا ولم یصب فمه الماء لا یفسد ماء البئر ولا الثوب بانتفاضته الخ ولا یعضه ما لم یر ریقه الخ ولا خلاف في نجاسة لحمه وطهارة شعره (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۰۸). ظفیر

(۳) ویعتبر سؤر بمسئر الخ فسؤر آدمی مطلقا ولو جنبا او کافرا الخ طاهر (درمختار) او کافرا لأنه علیه الصلوة والسلام انزل بعض المشرکین فی المسجد علی ما فی الصحیحین فالمراد قوله تعالی: إنما المشرکون نجس النجاسة فی اعتقادهم ولا یشکل نزح البئر به لو أخرج حیا لأن ذلك لما علیه فی الغالب من النجاسة الحقیقیة او الحکمیة کما قدمناه (ردالمحتار مطلب فی السؤر ج۱ ص۲۰۵، ط.س. ج۱ ص۲۱۰). ظفیر

چې په درمختار کې دي: وکل ما ليس بحدث کقيء قليل ودم لوترك لم يسل ليس بنجس عند الشامي وهو الصحيح کذا فی الهداية والکافی وفی شرح الوقايه انه ظاهر الرواية. شامي ([1]) نو ددي څخه معلومه سوه چې په درمختار کې يې چې کمه مخکې دامام محمد (رح) پرقول په مائعاتو کې فتوی دجوهره څخه نقل کړې ده هغه ظاهر الروايت نه دی. فقط

دسپي، پیشو او دنورو څرمن ددباغت څخه وروسته پاکیري اوکه نه؟ او ددې خرڅول څنګه دي؟ **سوال**: (۴۹۲\۱) دسپي پیشو، ګیدړي اودنورو څرمن وروسته ددباغت څخه صرف دخپل استعمال دپاره بغير دقيمت ورکولو او اخيستلو پاکیږي اوکه نه دهغو بيع اوشراء هم جائزده دمسلمان او دغير مسلمان څخه؟

ددباغت څخه وروسته دسپي دڅرمنی څخه جای نماز جوړول جائز دي اوکه نه؟ **سوال**: (۴۹۳\۲) دسپي وغيره دڅرمنی ددباغت څخه وروسته جای نماز يا دجومات فرش يا سلواغه جوړول جائز دي اوکه نه؟

دغير ماکول څرمن او دهغه غوښه پاکيدلی سي اوکه نه؟ **سوال**: (۴۹۴\۳) نور الهدايه ترجمۂ اردو شرح وقايه په کتاب الصيد کې ليکلي دي چې ښکار کول دهر حيوان صحيح دي برابره خبره ده که دهغه غوښه حلاله وي اوکه نه وي لکه ګيدړه، شرمښ، خنزير او نور، نو ماسوا دخنزير څخه دنورو حيوانو څرمن اوغوښه به پاکه سي، او دهغه بيع اوشراء هم دمسلمان اودغير مسلمان سره جائزده اوکه نه؟

دڅرمنی استعمال ددباغت څخه بغير جائز دي اوکه نه؟ **سوال**: (۴۹۵\۴) آيا دهغو څرمنی ددباغت بغير په مصرف کې راوستل جائز دي اوکه نه؟

ددغی غوښی استعمال کله جائز دی؟ **سوال**: (۴۹٦\۵) ددغی غوښی استعمال په کومو صورتونوکې جائز دی؟

دغوښی او څرمنی دپاکوالی طريقه څه ده؟ **سوال**: (۴۹۷\٦) ددغه غوښی اوڅرمنی په پاکوالی کې څه تفصيل دی يعنی په تيغ لرونکی آلې سره به پاکيږي اوکه نه دګولی په ويشتلو سره به هم پاکه سي؟

جواب: ۱: درنګ ورکولو څخه وروسته دمسلمان اودغير مسلمان څخه يې اخيستل او پرخرڅول جائز دي. ([2]) فقط

([1]) رد المحتار نواقض الوضوء بعد مطلب فی حکم کي الحمصة ج۱ ص۱۳۰، ط.س. ج۱ ص۱۴۰. ظفير

([2]) وکل إهاب دبغ وهو يحتملها طهر فيصلي به ويتوضأ منه الخ خلا جلد خنزير فلا يطهر وآدمي فلا يدبغ لکرامته إلخ وما طهر به طهر بذکاة لا يطهر لحمه علی القول الاکثر إن کان غير مأکول (الدرالمختار علی =

۲: جائز دی (کذا صرح به فی الدر المختار). ([1])

۳: دپوستکی استعمال درنګ ورکولو څخه وروسته او دهغه خرڅول او اخیستل صحیح دی، او غوښه دغیر ماکول اللحم حیوان په ذبح کولو سره پاکیږی مثلاً چی هغه غوښه ورسره وی نو لمونځ یې کیږی لیکن خوراك یې صحیح نه دی، او دغوښی په پاکیدلو کی اختلاف هم دی، چی بعضو دغوښی نجاست ته ترجیح ورکړیده. ([2])

۴: په ذبح کولو سره داسی کیږی چی په درنګ ورکولو سره هم پاکیږی او بغیر ددرنګ ورکولو څخه یې استعمال صحیح دی. ([3])

۵: فقهاؤ چی غوښی ته پاك ویلی دی دهغه مطلب دادی چی هغه درسره وی نو لمونځ دی کیږی یعنی لمونځ کول ورسره صحیح دی.

۶: په دې کی دذبح کولو قید سته، په مرمی وغیره سره څرمن پاکیږی نه غوښه او بیا څرمن په رنګ کولو سره پاکیږی. ([4])

دخاوری په لوښی کی چی سپی خوله ووهی یا پکښی متیازی وکړی نوڅه حکم یی دی؟

سوال: (۴۹۸) دخاورو په لوښی کی چی سپی اوبه وڅښی اویا متیازی وکړی نوشرعًا یی څه حکم دی؟

جواب: دخاوروپه لوښی کی چی سپی اوبه وڅښی یا متیازی وکړی نوپه دی سره لوښی ناپاکه سو اوپه پریمنځلو سره یا دخاورو په موږلو سره پاکیږی ([5])، او دخاوری په نوی لوښی کی دفقهاؤ اختلاف دی کم چی په شامی ذکر سوی دی ([6]). فقط

= هامش ردالمحتار باب المیاه ص ۱۸۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۰۳). ظفیر

([1]) واعلم انه لیس الکلب بنجس العین عند الإمام وعلیه الفتوی الخ فیباع ویؤجر ویضمن ویتخذ جلده مصلی ودلوا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۰۸). ظفیر

([2]) وما أی إهاب طهر به بدباغ طهر بذکاة علی المذهب لا یطهر لحمه علی قول الاکثر إن کان غیر ماکول هذا وصح ما یفتی به وإن قال فی الفیض الفتوی علی طهارته (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۸۹). ظفیر

([3]) فجاز ان تعتبر الذکاة مطهرة لجلدة للأحتیاج إلیه للصلوة فیه وعلیه ولدفع الحر والبرد وستر العورة یلبسه دون لحمه لعدم حل أکله (ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۸۹، ط.س. ج۱ ص۲۰۵). ظفیر

([4]) وهل یشترط لطهارة جلده کون ذکاته شرعیة الخ قیل نعم وقیل لا، والأول اظهر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۸۹، ط.س. ج۱ ص۲۰۵). ظفیر

([5]) عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم إذا شرب الکلب فی إناء أحدکم فلیغسله سبع مرات مفتق علیه وفی روایة لمسلم وطهور إناء أحدکم إذا ولغ فیه الکلب أن یغسله ثلاث مرات اولاهن بالتراب (مشکوة باب تطهیر النجاسات ص۵۲ ج۱). ظفیر

([6]) حاصله کما فی البدائع أن المتنجس إما أن لا یتشرب فیه اجزاء النجاسة اصلا کالأوانی المتخذة من الحجر =

که چیري پرسپي باندي بسم الله وویل سي اوذبحه کړل سي نو په دي سره یي څرمن پاکیږي اوکه نه؟ **سوال:** (۴۹۹) که چیري سپي په بسم الله باندي ذبحه کړی او دهغه پرپوستکی لمونځ وکړل سي، نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: دسپي په نجس العین کیدو اونه کیدو کي اختلاف دی، کم علمآء چي ورته دخنزیر په ډول نجس العین وایي نو دهغوی په نزد په بسم الله باندی دذبح کولو څخه وروسته هم دهغه څرمن نه پاکیږي، اوکم فقهآء چي ورته نجس العین نه وایي دهغوی په نزد په بسم الله باندی په ذبح کولو سره دهغه پوستکی پاکیږي لکه دزمری، لیوه او دنورو دپوستکو په شان. وعلیه الفتویٰ (۱). فقط

پرناپاکه پوخ فرش باندي چي اوبه وبهول سي نو پاکیري اوکه نه؟ **سوال:** (۵۰۰) پوخ فرش که چیری ناپاکه سی او هلته دوه درې واره اوبه وبهول سی نو هغه پاکیږی اوکه نه؟

جواب: هغه پاکیږي. (۲) فقط

دبدن په پاکوالي کي مړل او وچول شرط دي اوکه نه؟ **سوال:** (۵۰۱) دبدن په پاکوالی کی مړل او وچول شرط دی اوکه نه؟

جواب: دبدن په پاکوالی کی دنجاستِ حقیقه دلیری کولو ضرورت دی که چیری هغه پلیتی دمړلو څخه بغیر لیری کیدله نو دمړلو هیڅ ضرورت نسته او دوچولو ضرورت یې نسته. (۳) فقط

= والنحاس والخزف العتیق، او یتشرب فیه قلیلا کالبدن والخف والنعل او یتشرب کثیرا الخ واما الثالث فان کان مما یمکن عصره کالثیاب فطهارته بالغسل والعصر إلی زوال المرئیة وفی غیرها بثلثها وإن کان مما لا ینعصر کالحصیر المتخذ من البردي ونحوه إن علم أنه لو یتشرب فیه بل أصاب ظاهره یطهر بازالة العین او بالغسل ثلاثا بلا عصر وإن علم تشربه کالحرق الجدید والجلد المدبوغ بدهن نجس والحنطة المنتفخة بالنجس فعند محمد لا یطهر ابداً وعند ابی یوسف ینقع فی الماء ثلاثا ویجفف کل مرة والأول اقیس والثاني اوسع آھ وبه یفتی (رد المحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۷، ط.س. ج۱ ص۳۳۲). ظفیر

(۱) واعلم انه لیس الکلب بنجس العین عند الإمام وعلیه الفتوی وإن رجح بعضهم النجاسة کما بسطه ابن الشحنه فیباع ویشتري ویؤجر ویضمن ویتخذ جلده مصلی ودلوا الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۰۸). ظفیر

(۲) وکذا یطهر محل نجاسة الخ مرئیة بعد جفاف کدم بقلعها أی بزوال عینها وأثرها ولو بمرة الخ ویطهر محل غیرها ای غیر مرئیة بغلبة ظن غاسل طهارة محلها بلا عدد به یفتی وقدر ذلك لموسوس بغسل وعصر ثلاثا فیما ینعصر الخ وبتثلیث جفاف ای إنقطاع تقاطر فی غیره ای غیر منعصر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۲، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفیر

(۳) وکذا یطهر محل نجاسة مرئیة أما عینها فلا تقبل الطهارة مرئیة بقلعها ای بزوال عینها أثرها ولو بمرة او بما فوق ثلاث في الأصح الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۲، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفیر الدین

په غیر مسلم دوبي باندې مينځلې جامې پاکيږي اوکه نه؟ **سوال**: (۵۰۲) دنامسلمان دوبي په وسيله مينځلي جامې پاکيږي اوکه نه؟

جواب: پاکې دي، نو دغه جامې پاکې ګڼل پکار دي، او لمونځ کول پر هغه صحيح دي. (۱) فقط

که دچيني دلوښي دناپاکوالي شبهه وي نوپه کمه طريقه سره پاکيدې سي: **سوال**: (۵۰۳) دچينيو په کمو لوښوکې چې دزړيدلو په وجه کربښې ولګيږي، که چيرې پردې باندې دچوپړك يا دموږکانو دمتيازو شك وي نو په کمه طريقه باندې پاکيدلې سي؟

جواب: په درې واره مينځلو سره پاکيږي. (۲) فقط

په لوټه باندې داستنجآء دکولو څخه وروسته يې لاس په اوبو کې ووهي نو اوبه پاکې دي اوکه نه ناپاکه سوې؟ **سوال**: (۵۰۴) يو څوك دمتيازو کولو څخه وروسته دخاورې په لوټه باندې استنجآء وکړه چې لاس يې پر نجاست بالکل لګيدلې نه دې دماټې څخه يې اوبه را واخيستې نو اوبه پاکې پاته سوې اوکه ناپاکه سوې؟

جواب: کله چې دده لاس دنجاست سره نه دې لګيدلې نو دماټې اوبه پاکې دي. فقط

آيا دماشوم هلک متيازې کمې پليتې دي او دماشومې انجلۍ دا ډيرې؟ **سوال**: (۵۰۵) اوريدل سويدي چې دماشوم هلك متيازې کمې ناپاکې دي او دماشومې انجلۍ دا ډيرې، دا فرق څنګه دې؟

جواب: دهلك ماشوم او دماشومې انجلۍ ددواړو متيازې ناپاکه دي او دواړه يو برابر دي، ددغه حديث پاك مطلب بل دې په کم کې چې وارد دي چې (يغسل من بول الجارية) يعنې ددې مطلب په مينځلوکې مبالغه او زيادت کوشش دی. (۳) فقط

دناپاکې دوا استعمال صحيح دې اوکه نه؟ **سوال**: (۵۰۶) دغوايې او ګاميښې او دخنزير وازګه او نور ددوا سره يوځای کوی او ګولۍ ورڅخه جوړوی داسې يو مريض ته چې دلا علاجه مرض دسرسام څخه بې هوښه سوی وی او مرګ ته نژدې سوی وی اوپه هيڅ دوا

---

(۱) اليقين لا يزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ج۱ ص۷۵). ظفير

(۲) ويطهر محل غيرها أي غير مرئية بغلبة ظن غاسل طهارة محلها وقدر ذلك لموسوس يغسل وعصر ثلاثا فيما ينعصر الخ وبتثليث جفاف اى إنقطاع تقاطر فى غيره أي غير منعصر. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۳، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفير

(۳) قال إنما يغسل من بول الأنثى وينضح من بول الذكر رواه احمد (مشكوة باب تطهير النجاسات ص۵۲) فعلم منه ان حكم بول الغلام الغسل لا أنه يجزي فيه الصب يعني ولا يحتاج إلى العصر وحكم بول الجارية ايضا الغسل إلا أنه لايكفي فيه الصب لأن بول الغلام يكون فى موضع واحد لضيق مخرجه وبول الجارية يتفرق فى مواضع لسعة مخرجها (مرقاة المفاتيح باب تطهير النجاسات فصل ثاني ج۱ ص۳۵۵). ظفير

سره په هوش کی نه راځی اوپه ذکر سوی دوا سره په پنځه دقیقوکی په هوش کی راځی نو آیا کله چی هیڅ قسم دوا فائده نه کوی نو ددې استعمال جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دغسی حالت کی په نجسه دواء کی دشفاء او فآئدې گومان که غالب وو، او هیڅ یو پاك شی دهغه قائم مقام کیدی نه، نو بعضو فقهاوو ددا سی دواء داستعمال اجازت ورکړیدی، لکه څنگه چی په درمختار کی دی: اختلف فی التداوی بالمحرم فی النهایة عن الذخیرة یجوز ان علم فیه شفاؤ لم یعلم دواء آخر الخ، شامی (۱). فقط

هغه غله دانه پرکمو چی حیوانانو متیازی کړی وی هغه پاکه ده اوکه نه؟ سوال: (۵۰۷) په دې ځای کی غنم او نوره غله دانه دغوایانو او دخرو په ذریعه دبوسو څخه ایستل کیږی نوپه دغه وخت کی غوایان اونور په دې کی متیازی او خرشنه او گندگی کوی، دغه غله دانه په څه طریقې سره پاکیدی سی؟

جواب: دغه غله دانه به دتقسیمولو اودنورو تصرفاتو څخه وروسته پاکه سی. (۲) فقط

دخنزیر دوازگی استعمال صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۵۰۸) په سخت مریض کیدو سره یوه حاذق حکیم په علاج کولوکی که چیري دخنزیر په وازگی سره دسربیره بدن دمالش کولو اوغوړولو ضرورت سی نو داحنافو په نزد داجائز دی اوکه نه؟

جواب: دفقهی په کتابونوکی داتفصیل دی چی دحرام شی استعمال په داوء کی هغه وخت صحیح دی چی یومسلمان هوښیار طبیب دهغه وړاندیز وکړی اوهیڅ څه حلاله دوایی دهغه په بدل کی پیدا نه سی. (۳) فقط

ناپاکه شیدی دمیښی وغیره چمیار یاوغیره کافر ته ورکول کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۵۰۹) په شیدو کی سپی وغیره خوله ووهله نودا شیدی دمیښی یا غوایی چمیار یابل چاته ورکول کیدای سی اوکه نه؟

جواب: هغه شیدی حیوانانو ته اوجارو کښانو ته ورکول کیدای (۴) سی. فقط

---

(۱) ردالمحتار باب المیاه مطلب فی التداوی بالمحرم ج۱ ص۱۹۴، ط.س. ج۱ ص۲۱۰. ظفیر

(۲) كما لو بال حمر خصها لتغليظ بولها إتفاقا على نحو حنطة تدوسها فقسم او غسل بعضه او ذهب بعضه او اكل او بيع كما مر حيث يطهر الباقي وكذا الذاهب لإحتمال وقوع النجس فى كل طرف كمسئلة الثوب (درمختار) قوله خصها الخ ليعلم الحكم فى غيرها بالدلالة، إبن كمال (ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۲، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفير

(۳) ورده فى البدائع بانه غير سديد لأن المحرم شرعا لايجوز الأنتفاع به للتداوي كالخمر فلا تقع الحاجة إلى شرع البيع (درمختار) وفى التهذيب يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن فيه شفاءه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه (رد المحتار كتاب البيوع باب المتفرقات مطلب في التداوي بالمحرم ج۴ ، ط.س. ج۵ ص۲۲۸). ظفير

(۴) وما عجن به فيطعم الكلاب وقيل يباع من شافعى (درمختار) لأن ما تنجس لاختلاط النجاسة به والنجاسة =

دغیر ماکول اللحم دغوښې دخوراک څخه علاوه نوري فائدې اخیستل صحیح دي؟ سوال:
(۵۱۰) ایا داخبره صحیح ده چې هغه حیوان چې غوښه یې نه خوړل کیږي دهغه څخه دغوښې دخوراك څخه علاوه نوري فائدي اخیستل صحیح دي؟
جواب: دکم شي چې غوښه نه خوړل کیږي نودشرعي ذبحې څخه وروسته به هغه پاکیږي ددي دپوستکي او دنورو استعمال صحیح دي اوغوښه یې هم پاکیږي مگر خوړل کیدای نه سي ([1]). فقط

پرپلیت بدن باندې چې پلیت صابون ووهل سي نو داوبو بهولورباندې کافي دي اوکه نه؟
سوال: (۵۱۱) پرنجس بدن باندې چې نجس صابون ووهل سي اواوبه ورباندې واچول سي نودا به کافي کیږي اوکه نه؟
جواب: ددې صابون په پریمنځلو او داوبو په تیرولو سره بدن صفا کیږي ([2]). فقط

دناپاکه ماشوم خوله پاکه ده اوکه نه؟ سوال: (۵۱۲) ماشوم هروخت متبازې کوي اوپه دې باندې همیشه ککړ وي اودده همیشه پریمنځل ضررناك دي، نودده بدن دوچیدلو څخه وروسته چې خوله وکړي نودغه خوله پاکه ده اوکه نه؟
جواب: کله چې دده پربدن باندې جامې هم وي او ددې ماشوم پربدن باندې خوله راسي نو ددې ماشوم دپورته کوونکي جامې نه پلیتیږي. فقط

په تالاب کې چې دقتل سوي ښځې بدن وغورځول سي اواوبه بدبویه سي نوهغه ناپاکه سوي اوکه نه؟ سوال: (۵۱۳) په یو تالاب کې دیوې وژل سوې ښځې بدن ټوټه کړل سو او وغورځول سو اوځو ورځې وروسته دومره بدبویه وو چې هیڅ بنی آدم اوحیوان اوبوته نه

= مغلوبة لا یباح اکله ویباح الإنتفاع به فیما وراء الأکل کالدهن النجس یستصبح به إذا کان الطاهر غالبا فکذا هذا، حلیة عن البدائع الخ وعن ابي یوسف لا یطعم بنی آدم اهـ ولهذا عبر عند الشارح بقیل وجزم بالأول الخ (رد المحتار فصل فی البئر ج۱ ص۲۰۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۸). ظفیر

([1]) وکل اهاب دبغ دباغة حقیقة بالأدویة او حکمیة کالتتریب والتشمیس والإلقاء فی الریح فقد طهر وجازت الصلوٰة فیه والوضوء منه إلا جلد الخنزیر الخ وما طهر جلده بالدباغ طهر جلده بالذکاة وکذلك جمیع اجزائه یطهر بالذکاة إلا الدم وهو الصحیح کذا فی محیط السرخسي (عالمگیري کشوري الباب الثالث فی المیاه فصل ثاني ج۱ ص۲۳) وصح بیع الکلب الخ والسباع (درمختار) قوله والسباع وکذا یجوز بیع لحمهما بعد التزکیة لا طعام کلب او سنور بخلاف لحم الخنزیر لأنه لایجوز إطعامه محیط، لکن علی اصح التصحیحین من أن الذکاة الشرعیة لا تطهر إلا الجلد واللحم لایصح بیع اللحم شرنبلالیة (رد المحتار کتاب البیوع باب المتفرقات ط.س. ج۵ ص۲۲۲). ظفیر

([2]) یطهر بدن المصلي وثوبه ومکانه عن نجس مرئی بزوال عینه وإن بقی أثر یشق زواله بالماء متعلق بقوله بزوال عینه وبکل مائع طاهر مزیل کخل ونحوه وعما لم یر اثر بغسله ثلاثا وعصره فی کل مرة إن أمکن الخ (شرح وقایه باب الأنجاس ج۱ ص۱۳۷). ظفیر

سوای نژدی کیدای نوپه دی صورت کی دتالاب اوبه ناپاکه کیږی اوکه نه؟

جواب: کله چی دتالاب اوبه ډیری وی یعنی لس په لسه کی یا ددي څخه زیاتی وی اوپه دغه اوبوکی دوژل سوی ښځی په بدن بدبویه سوی نه وی اګر چی پخپله ددی دبدن بدبویی بهر ته رسیدلی وی نودغه اوبه په ذکرسوی حالت کی نه پلیتیږی په درمختار کی دی: وکذا یجوز براکد کثیر کذلك ای واقع فیه نجس لم یر اثره الخ ولو فی موضع وقوع المرئیة به یفتی الخ، درمختار، قوله لم یراثره الخ ای من طعم او لون اوریح وهذا القید لابد منه وان لم یذکر فی کثیر من المسائل الاتیة الخ [۱] شامی. فقط

پرناپاکه مځکه چی اوبه واچول سی کم څاځکی چی والوزی هغه پاک دی اوکه نه؟ سوال: (۵۱۴) زه چرګان ساتم دکومو په ګندګی سره چی اکثره مځکه لړلی وي او دخلګو په تللو سره ټوله مځکه ګنده کیږی ددی وطن مځکه نمجنه ده دلمر حرارت کم دی نه مځکه وچیږی اونه ګندګی موږ پردی ځای اودس کوو دکومو چی څاځکی پر بدن باندی را غورځی نو دغه څاځکی پاك دی اوکه نه ناپاکه دی؟

جواب: پرناپاکه مځکه باندی اودس کول او کښیناستل په کارنه دی، حتی الوسع احتیاط کول په کاردی اوپه کم کارکی چی عموم بلوىٰ وی په هغه کی دشارع دطرف څخه دتخفیف حکم هم کیدی سی [۲]. (نوچی په سوال کی په ذکر سوی صورت کی عموم بلوىٰ ده نومعاف دی مګر حتی الوسع په داسی صورت باندی اودس کول پکاردی چی څاځکی پربدن باندی ونه لګیږی. ظفیر).

دنجس ګیلاس اوبه پاکی دی اوکه نه ناپاکی؟ سوال: (۵۱۵) دنجس ګیلاس اوبه دامام مالك رحمه الله په قول پاکی دی اوکه نه؟

جواب: په پلیت ګیلاس کی چی اوبه واچول سی نوهغه هم پلیتیږی [۳]. فقط

چی دمذی شک وی نوڅه وکړی؟ سوال: (۵۱۶) زید چی دکثرت جماع دوجه څخه یی په معمولی انتشار سره مذی ظاهریږی دشپی جدا جامی اغوندی اوبدلوی یی مګر بیاهم ورته وسوسه اوشك وی چی کیدای سی چی مذی پرپښو یا ورنونو باندی لګیدلی وی

---

[۱] ردالمحتار باب المیاه جلد اول ص۱۷۲، ط.س. ج۱ ص۱۹۱. ظفیر

[۲] وعفی الخ بول إنتضح کرؤوس إبر وإن کثر باصابة الماء للضرورة الخ وطین شارع ونجار نجس وغبار سرقین ومحل کلاب وانتضاح غسالة لا تطهر مواقع قطرها فی الإناء عفو (درمختار) وفی الفتح وما ترشش علی الغاسل من غسالة المیت مما لایمکنه الإمتناع عنه مادام فی علاجه لا ینجسه لعموم البلوی (رد المحتار باب الأنجاس ج۱ ص۲۹۷ – ۳۰۰، ط.س. ج۱ ص۳۲۱ – ۳۲۲). ظفیر

[۳] وماءٌ وَرَدَ أی جَرٰی علی نَجَسٍ نَجَسٌ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۰، ط.س. ج۱ ص۳۲۵). ظفیر

نوپه دی صورت کی دټول بدن پریمنځل په کاردی اوکه نه جامه بدلول اولمونځ کول په کار دی؟

جواب: دبدن یا دورنونو دپریمنځلو ضرورت نسته جامی دي بدلی کړی اولمونځ دي وکړی (۱). فقط

په کټهه (۲) کی چی دماشوم متیازی ولویږی نوهغه به څنګه پاکه سی؟ سوال: (۵۱۷) کټهه یی پوخ کړیدی، او دیخی کیدلو دپاره یی ایښی وو لا ټینګ کلك سوی هم نه وو چی ماشوم سربیره متیازی پروکړی اویو څوڅاڅکی په کټهه کی ولوېدل اوس هغه کټهه څنګه پاکیدی سی؟

جواب: ددغه کټهی دپاکیدلو هم هغه صورت کیدلی سی کم چی دناپاکو تیلو اودغوړو وغیره په باره کی فقهاؤ لیکلی دی: ویطهر لبن وعسل ودبس ودهن یغلی ثلاثا (۳) یعنی په هغه کی دي هم هغومره څومره چی هغه شی وی اوبه دي درواچوی اوپوخ دي وکړی ترڅو چی اوبه وسوزی او دغه طریقه دي دری واره وکړی.

دفیل جسم او دهغه پس خورده پاکه ده اوکه نه؟ سوال: (۵۱۸) دفیل پس خورده او دژوندی فیل بدن نجس دی اوکه نه؟

جواب: دصحیح مذهب موافق فیل نجس العین نه دی، نودده ظاهری بدن پاك دی لکه څنګه چی په درمختار کی دی: وافاد کلام طهارت جلد کلب وفیل وهو المعتمد (۴) اودفیل پسخورده مغلظ نجاست دی: کما فی الدرالمختار وسور خنزیر وکلب وسباع بهائم الخ نجس مغلظ، (۵) ومنها الفیل کذا فی الشامی (۶). فقط

دوریښمو جامه که په پریمنځلو سره خرابیږي نو په څه طریقه به پاکه سی؟ سوال: (۵۱۹) دوریښمو جامې که په پرېمینځلو سره خرابیږي نو هغه په څه طریقه باندی پاکي کړل سی؟

---

(۱) الیقین لایزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة). ظفیر

(۲) دا یو ډول بوټی دی چي دپاڼ سره کارول کیږي او بیا خوړل کیږي. حقاني.

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۸، ط.س. ج۱ ص۳۳۴. ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه مطلب فی احکام الدباغة جلد اول ص۱۸۹، ط.س. ج۱ ص۲۰۸. ظفیر

(۵) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی البئر مطلب فی السور جلد اول ص۲۰۵ – ۲۰۲، ط.س. ج۱ ص۲۲۳. ظفیر

(۶) قوله وسباع بهائم هی ماکان یصطاد بنابه کالأسد والذئب والفهد والنمر والثعلب والفیل والضبع واشباه ذلك سراج (ردالمحتار فصل فی البئر مطلب فی السور ج۱ ص۲۰۵، ط.س. ج۱ ص۲۲۳). ظفیر

جواب: ددی جامو پریمنځل هم ضروری دی بغیر دپریمنځلو څخه نه پاکیږی البته که چیري هغه ډیره باریکه وی نو دهغه دنه نښتیځلو دجواز ګنجائش سته: کما فی الدرالمختار ولو لم یبالغ هل یطهر؟ الاظهر نعم الخ للضرورة نهر. (¹) فقط

ناپاکه مځکه چې دوچیدلو څخه وروسته لنده سی نو ناپاکه کیږي اوکه نه؟ سوال: (۵۲۰) دزمکی پاکوالی دمځکی وچیدل دی، نوکه چیري بیا لنده سي نو نجاست بیرته راګرځي اوکه نه؟

جواب: بیرته نه راګرځی. (²) فقط

پرڅپلیو چې متیازی ولګیږي اوبیا وچی سی نو پاکیږي اوکه نه؟ سوال: (۵۲۱) که چیري څپلی په متیازو پلیتی سی او وچی سی نو دپریمنځلو څخه مخکی یا وروسته وچی سی اوبیا لندې سی یا لندې پښې پکښې واچول سی نوپښې ناپاکه سوی او څپلیو ته نجاست ورغی اوکه نه؟ او دڅپلۍ په اوچیدلو سره ددی نجاست څخه پاکیږی اوکه نه؟

جواب: دڅپلیو څخه دجسم لرونکي نجاست لیري والی او ازاله په ګرولو سره کیږی او دغیر جسم لرونکي پلیتی څخه لکه متیازی په پریمنځلو سره پاکیږی اوچی کله په منښلوسره پاکه سی نو بیاپه لندیدلوسره نه ناپاکه کیږی په درمختار کی دی: ثم هل یعود نجسا ببله بعد فرکه المعتمد لا الخ. (³) فقط

دپوزي په طهارت کي ددري واره وچولو شرط ضروري دی اوکه نه؟ سوال: (۵۲۲) په پوزه وغیره کی چی کم دری واره وچول فقهاؤ لیکلی دی داضروری دی اوکه نه مستحسن؟

جواب: دتثلیثِ جفاف څخه یې مراد انقطاع دتقاطر اخیستی ده اودډیرو اوبو اوپه جاری والی کی دتکرار هم ضرورت نه سته، درمختار وشامی (⁴). فقط

دکوچنی کندی اوبه څرنګه پاکی کیدی سي؟ سوال: (۵۲۳) په یو جومات کی اوږد اوپلن تالاب دی او دباران په اوبو سره ډیر ډکیږی اواوبه ډیری کمی دی په هغه کی یوهلك

(¹) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۲، ط.س. ج۱ ص۳۳۲. ظفیر

(²) وتطهر ارض بخلاف نحو بساط لیبسها ای جفافها ولو برسخ وذهاب اثرها لأجل صلاة علیها لا لیتمم بها لأن المشروط لها الطهارة وله الطهوریة الخ وهل یعود نجسا ببله بعد فرکه المعتمد لا، وکذا کل م احکم بطهارته بغیر مائع (درمختار) ای کالدلك فی الجف والجفاف فی الأرض والدباغة الحکمیة فی الجلد الخ (ردالمحتار بب الأنجاس ج۱ ص۲۹۲ – ۲۹۷، ط.س. ج۱ ص۳۱۱). ظفیر

(³) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۲۸۵، ط.س. ج۱ ص۳۰۹. ظفیر

(⁴) بتثلیث جفاف ای إنقطاع تقاطر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۷، ط.س. ج۱ ص۳۳۲) زاد القهستاني وذهاب النداوة وفی التتارخانیة حد التجفیف أن یصیر بحال لا تبتل منه الید ولا یشترط صیرورته یابسا جدا (ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۷، ط.س. ج۱ ص۳۳۲)، ظفیر

ډوب سو اومړسو كه چيري ټولي اوبه وايستل سي نوتر باران كيدلو پوري به لمونځ ګذاروته تكليف وي اوس څه كول په كاردي؟ چي تالاب طولاً نهه (۹) لاسه اوعرضاً اووه (۷) لاسه دي اوډير ژور دي؟

جواب: هغه تالاب چي كله لس په لس كي نه دي نوپه ذكرسوي صورت كي دهغه اوبه ناپاكي سوي اوهغه ټولي اوبه ايستل په كاردي. (١) فقط

په وينو لړل سوي غوښه بايد څه رنګه پاكه كړل سي؟ سوال: (۵۲۴) كه چيري پاكه غوښه په دم مسفوح كي ككړه سي يا ورته ديهودو اونصاراٰ په وينه لړلي لاسونه وروړل سي نودغه غوښه به څرنګه پاكه كړل سي چي ترڅو دخوراك لائقه وګرځي؟

جواب: په دري واره پريمنځلو سره به پاكه سي، په شامي كي دظهيريه څخه منقول دي: ولو صبت الخمرة في قدر فيها لحم ان كان قبل الغليان يطهر اللحم بالغسل ثلاثا الخ ص۲۲۳ جلد اول شامي. (٢) فقط

دپنبه ؤ جامه چي ناپاكه سي نوڅه رنګه بايد پاكه كړل سي؟ سوال: (۵۲۵) دپنبه ؤ جامه چي ناپاكه سي نوپه پريمنځلو سره پاكيدي سي اوكه نه دپنبه ؤ په ايستلو او دوباره ډكولو سره به پاكيږي؟ اوكه چيري نجاست وچ وي نوڅرنګه به پاكه كړل سي؟

جواب: په پريمنځلو سره به پاكه كړل سي او دوچ نجاست هم دغه حكم دي چي پريمنځل سي. (٣) فقط

دغسل كوونكي څاڅكي چي په حوض كي ولويږي نو ناپاكه به سي اوكه نه؟ سوال: (۵۲۶) كه چيري يو څوك دجومات حوض ته نژدي غسل وكړي اودغسل څاڅكي په حوض كي ولويږي نو دحوض اوبه خوبه ناپاكي نه سي؟

جواب: دحوض اوبه پاكي دي په هغو كي هيڅ فرق نه راځي. (٤) فقط

دزمري، پړانګ او دخنزير څرمن ددباغت څخه وروسته پاكيږي اوكه نه؟ سوال: (۵۲۷) دزمري، پړانګ او دنورو وغيره څرمن ددباغت څخه وروسته پاكيږي اوكه نه؟ اودخنزير څرمن هم ددباغت څخه وروسته پاكيږي اوكه نه؟

---

(١) وبذلك استدل في المحيط على أن نجاسة الميت نجاسة خبث لأنه حيوان دموي فينجس بالموت كغيره من الحيوانات (ردالمحتار فصل في البئر ص۱۹۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۱۱). ظفير

(٢) ردالمحتار باب الانجاس مطلب في تطهير الدهن والعسل تحت قوله ولحم طبخ الخ جلد اول ص۳۰۹. ظفير

(٣) وكذا يطهر محل نجاسة الخ مرئية ويطهر محل غيرها اى غير مرئية بغلبة ظن غاسل الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۴، ط.س. ج۱ ص۳۳۴). ظفير

(٤) وبماء استعمل لأجل قربة الخ إذا إنفصل عن عفو وإن لم يستقر الخ وهو طاهر ولو من جنب وهو الظاهر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المياه ص۱۸۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۹۸). ظفير

جواب: دخنزير څخه بغير دنورو ټولو حيوانانو، زمری پړانـګ وغيـره څـرمن بـه ددباغـت څخه وروسته پاکه سی اوپر هغې باندی لمونځ صحيح دی (۱). فقط

پخه خښته چې ناپاکه يې نوهغه بـه څنګه پاکيږي؟ سوال: (۵۲۸) پخـه خښته کـه چيـري ناپاکه سی نودهغې دپاکولو طريقه څه ده؟

جواب: دپخو خښتو دپاکوالی طريقه داده چی هغه دي ښی پريمينځل سی نوپـه صـورت مسؤله کی که چيري دخښتو دپاکولو څخه وروسـته کـه څاه تيـار کـړل سـوی وی نوهغـه اوبه پاکی دی. (۲) فقط

دنجسی جامی دپاکوالی څه طريقه ده؟ سوال: (۵۲۹) کـه چيـري پرجامـه بانـدی نجاسـت لګيدلی وی نوپه رکنِ دين کتاب کی يی ليکلی دی چی په يو وار پريمنځلو سره به پاکه سی، او دشکی سړی دا بـه پـه پنځـه (۵) يـا اووه (۷) واره پريمنځلـو سـره پاکـه سـی آيـا همدغه ډول صحيح ده؟

جواب: کلـه چی نجاست پـه ظـاهره يـوی جـامی تـه لـګيدلی نـه وی نوهغـه پاکـه ګڼـل پـه کاردی، ديو وار پريمنځلو څخه وروسته پاکيږی او ددری واره پريمنځلـو څخـه وروسـته هره يوه ناپاکه جامه دهرچا په حق کی پاکيږی که وسواسی وی او که غير وسواسی وی. (۳) فقط

په ناپاکه دستمال يې دخولی څخه لوند مخ صفا کـی نـومخ پـاک پاتـه سو اوکـه نـه ناپاکـه؟

سوال: (۵۳۰) په ناپاکه دستمال سره يې خپل مخ پـاك کـی مـخ دخـولی څخـه لونـد ؤ چـی دهغه په وجه دسمال لوند سو، نومخ پاك پاته سو اوکه نه؟

جواب: لف ثوب رطب نجس فی ثوب طاهر لکن لا يسيل لو عصر لا يتنجس الـخ (۴) ددي څخه معلومه سوه چی که چيري دستمال دومره لوند سوی وی چی په نښتيځلو سره هغـه نښتيځل کيږی نوناپاك به سی کنې نه به وی. فقط

---

(۱) وكل اهاب الخ دبغ ولو بشمس وهو محملها طهر فيصلي به ويتوضا منه الخ خلا جلد خنزير فلا يطهر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المياه مطلب احكام الدباغة ج۱ ص۱۸۷، ط.س. ج۱ ص۲۰۳). ظفير

(۲) وحكم آجر ونحوه كلبن مفروش وخمر الخ كذلك أى كأرض فيطهر بجفاف الخ فالمنفصل يغسل لا غير (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص ۲۸۷، ط.س. ج۱ ص۳۱۱). ظفير

(۳) وكذا يطهر محل نجاسة مرئية الخ بقلعها الخ ويطهر غيرها أى غير مرئية بغلبة ظن غاسل الخ طهارة محلها بلا عدد يفتى به وقدر ذلك لموسوس بغسل وعصر ثلاثا الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ص۳۰۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفير

(۴) إذا لف الثوب المبلول النجس فى ثوب طاهر يابس فظهرت نداوته الخ لكن لا يصير رطبا بحيث يسيل منه شيء بالعصر الخ والأصح انه لايصير نجسا (غنية المستملي ص ۱۷۱). ظفير

چې حوض ډک سي او وبهيږي نوڅه حکم يې دی؟ سوال: (۵۳۱) يوحوض چې دهغه ژوروالی په اندازه دسړي دی چې دلس په لسه څخه يوفټ کم دی اونلکه وربانډی لګيدلی ده دوه وخته په هغه کی اوبه توئيږی اوچې ډك سی نوجاری سی نو که چيري داحوض ناپاکه سی بيا دنلکی داوبو دورتوئيدلو په وجه که هغه جاری سي نوشرعًا به هغه پاك سی اوکه نه؟

جواب: هغه حوض دجاری کيدو په وجه سره پاکيږي. (۱) فقط

دمار څرمن به ددباغت څخه وروسته پاکه سی اوکه نه؟ سوال: (۵۳۲) دداسی غټ مار څرمن چې دباغت قبلولی سی ددباغت څخه وروسته پاکه او داستعمال وړده اوکه نه ده؟

جواب: که چيري دباغت قبلولای سي نوپاکه او داستعمال قابله ده. (۲) ليکن دکتابونو څخه دامعلوميږي چې دمار څرمن دباغت نه سی قبلولی غالبًا دنری والی دوجه څخه يا خوپه دباغت کی دباقی نه پاته کيدلو په وجه سره (۳). فقط

هغه لرګی چې اوبه جذبوی دهغه دپاکولو څه طريقه ده؟ سوال: (۵۳۳) يوتخت دداسی لرګی څخه جوړسوی دی چې هغه فوراً اوبه جذبوی پرهغه بانډی شراب تـوی سول اوجذب سول، دهغه په پريمنځلو سره يې بد بويه ولاړه، نوهغه څرنګه پاك کړی؟

جواب: په پريمنځلو سره پاکيږي (۴) او دپريمنځلو څخه وروسته چې کم بوی باقی پاته سی دهغه اعتبار نسته. (۵) فقط

---

(۱) ثم المختار طهارة التنجس بمجرد جريانه وكذا البئر وحوض الحمام (درمختار) أى بأن يدخل من جانب ويخرج من آخر حال دخوله وإن قبل الخارج إلخ ولايلزم أن يكون الحوض ممتلئا فى اول وقت الدخول لأنه إذا كان ناقصا فدخله الماء حتى إمتلأ وخرج بعضه طهر ايضا كما لو كان ابتداءا ممتلئا ماءا نجسا الخ (رد المحتار باب المياه قبيل مطلب يطهر الحوض بمجرد الجريان ج۱ ص۱۸۰، ط.س. ج۱ ص۱۹۵). ظفير

(۲) كل إهاب دبغ دباغة حقيقية بالأدوية او حكمية بالتتريب والتشميس والإلقاء فى الريح فقد طهر وجازت الصلوة فيه والوضوء منه إلا جلد الآدمي والخنزير هكذا فى الزاهدي (عالمگيري كشوري باب المياه فصل ثاني ج۱ ص۲۳، ط. ماجدية ج۱ ص۲۵). ظفير

(۳) وما دبغ الخ وهو يحتملها طهر الخ وما لايحتملها فلا وعليه فلا يطهر جلد حية صغيرة ذكره الزيلعي (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المياه مطلب احكام الدباغة ج۱ ص۱۸۷ – ۱۸۸ ، ط.س. ج۱ ص۲۰۳). ظ

(۴) إن المتنجس إما أن يتشرب فيما أجزاء النجاسة اصلاً كالأواني المتخذة من الحجر والنحاس والخزف العتيق او يشرب فيه قليلا كالبدن والخف والنعل او يتشرب كثيرا ففى الأول طهارته بزوال عين نجاسة المرئية او بالعدد على مامر وفى الثاني كذلك لأن الماء يستخرج ذلك القليل فيحكم بطهارته وأما فى الثالث فان كان مما يمكن عصره كالثياب فطهارته بالغسل والعصر إلى زوال المرئية وفى غيرها بتثليثها وإن كان مما لا ينعصر كالحصير المتخذة من البردى ونحوه إن علم أنه لم يتشرب فيه بل أصاب ظاهره يطهر بازالة العين اوبالغسل ثلاثا بلا عصر وإن علم تشربه كالخزف الجديد الخ عند ابى يوسف ينفخ فى الماء ثلاثا ويجفف كل مرة الخ والثاني اوسع وبه يفتى درر (ردالمحتار باب الأنجاس ص۳۰۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۳۲). ظفير =

دکاڼي تیل پاک دي اوکه نه؟ **سوال**: (۵۳۴) کله چي په کاڼي کی دشړشمو تیل وباسی نو دځه کېږي ضرورت وی، چي هغه دغیر قومونو څخه جمع کوی او استعمالوی یی نوهغه تیل به پاك وی اوکه نه؟

جواب: هغه تیل پاك دی ځکه چي اول خو محض په شبهی سره یو شی نه ناپاکه کیږی، اوکه نجاست یې یقینی وی نو دتقسیم کیدلو څخه وروسته هریوه حصه پاکیږی. (۱) فقط

په نوک کی دصابون سپین والی پاک دی: **سوال**: (۵۳۵) ماشوم ترغرمی پوری په غیږکی ساتم اوهغه متیازی کوی نوزه په غرمه کی په صابون سره غسل کوم، دغسل څخه وروسته په نوك کی دصابون سپینوالی په نظر راځی نوهغه سپین والی پاك دی اوکه نه؟

جواب: هغه سپین والی پاك دی. (۲) فقط

چي پرپښه باندي نجاست ولګیږی اوهغه پریمنځی خوخاوره یې پاته سی نوپاک دی اوکه نه؟

سوال: (۵۳۶) که چیري پرپښه باندی یې خاوره لګیدلی وی اوپه دی حالت کی دپښی سره نجاست ولګیږی نوپښه پاکه سوه اوکه نه؟ اوخاوره لنده سوه اودپاك بدن یا جامی سره ولګیده نوبدن اوجامه پاکه ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کي پښه اوجامه پاکه ده. (۳) فقط

په باران کی چی دچت اوبه راوڅاڅي او پر جامه باندي ومښلي نوهغه پاکه ده اوکه نه؟

سوال: (۵۳۷) دکور پرچت باندی که چیري هغه مرغان دکومو ګندګی چي ناپاکه ده ګندګی وکړی او اوبه را واوریږی اوپردغه چت باندی ولویږی، اوبیا ددغه چت اوبه په دننه کورکی پرپاکو جامو اوپر نورو باندی پریوزی نو هغه پاك دي اوکه نه؟

جواب: په دی صورت جامی اونور پاك دی. (۴) فقط

---

(۵) ولا یضر بقاء اثر کلون وریح لازم الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ألانجاس ج۱ ص۳۰۳، ط.س. ج۱ ص۳۲۹). ظفیر

(۱) وبال حمر خصها لتغلیظ بولها علی نحو حنطة تدوسها فقسم او غسل بعضه او ذهب بهبة او اکل او بیع حیث یطهر الباقی وکذا الذاهب لإحتمال وقوع النجس فی کل طرف (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۲۰، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفیر

(۲) وکذا یطهر محل نجاسة الخ مرئیة بقلعها الخ ویطهر محل غیرها ای غیر مرئیة بغلبة ظن غاسل (درمختار باب الانجاس، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفیر

(۳) وکذا یطهر محل نجاسة الخ مرئیة الخ بقلعها ای بزوال عینها وأثرها ولو بمرة او بما فوق ثلاث فی الأصح الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۰۳، ط.س. ج۱ ص۳۲۸). ظفیر

(۴) وعلی هذا ماء المطر إذا جری فی المیزاب وعلی السطح عذرات فالماء طاهر الخ قال فی الحلیة ینبغي أن لا یعتبر فی مسئلة السطح سوی تغیر احد الأوصاف (ردالمحتار باب المیاه بعد مطلب: الأصح أنه لایشترط فی =

دتالاب خته چي پرکالو ولګیږی نو بیاهم جامه پاکه پاته ده: **سوال**: (۵۳۸) په تالاب کی دپلیتو جامو دپریمنځلو څخه وروسته که چیري دتالاب خته دپاکی جامی سره ولګیږی نوجامی پاکی دی اوکه نه؟

جواب: پاکی دی. (۱) فقط

په غسل خانه کی ایښودل سوی لوټه پاکه ده که ناپاکه؟ **سوال**: (۵۳۹) په دی ملك کی دارواج دی چی دجومات خاوریني لوټي په غسل خانه کی پر لنده مځکه ایښودل کیږی نودا پاکی دی اوکه نه؟

جواب: په شبهی سره دناپاکی حکم نه سی ورکول کیدی اواحتیاط کول بیاهم لازم دی چی ددی پر بیخ باندی اوبه تیری کړل سی. (۲) فقط

دمحتلم هغه څادر په کم چی دنجاست اثر او نښه نه وی نوهغه پاک دی؟ **سوال**: (۵۴۰) رجل احتلم وهو لابس السروال وعلیه رداء خشن لا یظهر اثر المنی فی الرداء هل یحکم بنجاسة الرداء او لا ؟

جواب: لایحکم بنجاسة الرداء فی هذه الصورة (۳). فقط

دسپی لاړی ناپاکی دی: **سوال**: (۵۴۱) دسپی لاړی که چیري دجاموسره ولګیږی نودلمانځه دپاره دهغو پریمنځل واجب دی اوکه نه؟

جواب: دسپی دلعابو نجاست غلیظه دی که چیري ددرهم داندازی څخه زیاتی دجاموسره ولګیږی نودلمونځ دپاره دهغو پریمنځل فرض دی (۴).

دناپاکه جامی دڅاڅکو څه حکم دی؟ **سوال**: (۵۴۲) داستنجاء دوچولو ددستمال دننه طرف چی دغټ اودس مات سره ولګیږی دکمی چی مجموعی اندازه دکلداری روپی دنیمایی په مقدار وی او دکمیس شاته دلمن برخه داوداسه دځای ددیوال په لوندوالی یا

= الجريان المدد ج۱ ص۱۷۴، ط.س. ج۱ ص۱۸۸). ظفير

(۱) ولذا قال فی الخلاصة الماء النجس إذا دخل الحوض الكبير لا ينجس الحوض الخ (رد المحتار باب المياه تحت قوله وكذا يجوز براكد كثير كذلك ای وقع فيه نجس ج۱ ص۱۷۲، ط.س. ج۱ ص۱۹۰). ظفير

(۲) مشى فی حمام ونحوه لا ينجس مالم يعلم أنه غسالة نجس (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فی الإستنجاء ج۱ ص۳۲۴، ط.س. ج۱ ص۳۵۰). ظفير

(۳) اليقين لا يزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵). ظفير

(۴) والأصح انه إن كان فمه مفتوحا لم يجز لأن لعابه يسيل فی كمه فينجس لو اكثر من قدر الدرهم (ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۹۲، ط.س. ج۱ ص۲۰۸) وعفی الشارع عن قدر درهم وإن كره تحريما فيجب غسله ومادونه تنزيها فيسن وفوقه مبطل فيفرض (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۲۹۲، ط.س. ج۱ ص۳۱۲). ظفير

داوداسه په توی سوو اوبو سره لوندسو، نوچی په داسی حالت کی دی لمونځ وکړی نوجای نماز به پاك وی اوکه ناپاکه؟ دجای نماز څه حصه ددستمال سره لګيدلی ده هغه به پريمنځل کيږی، دپريمنځلو په وخت کي ددی اوبه دڅڅيدلو په وخت کي پر يو شی يا پرلوتپی وغيره باندی ولويږی نوهغه پاك دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی جای نماز، لوټه اونور وغيره ناپاکه نه دی، دجای نماز دپريمنځلو ضرورت نسته، اوپه دغو څاڅکو سره هيڅ يو شی نه پليتيږی. فقط

دناپاکه جامی څاڅکی چی پر ولويږي نوهغه ناپاکه دي: **سوال**: (**۵۴۳**) دناپاکه جامې دپريمنځلو په وخت کی چی بدن يا جامو ته څاڅکی ولګيږی نوهغه ناپاکه دی اوکه نه؟

جواب: په دي کی دي هم وهم نه کوی، البته ناپاکه جامه دي احتياطًا وپريمنځل سی چی دغه څاڅکی يی بدن ته ونه لګيږی ([1]). فقط

دتالاب زينه چي لنده وی نو پردي باندی کښينستلي او اودس کولي سی اوکه نه؟ سوال: (**۵۴۴**) که چيري دتالاب زينه لنده وی نوپردی باندی کښينستلي اواودس کولی سی اوکه نه؟ او ددی لوندوالی دلاسونو داوبو لوندوالی ګڼل او پريمنځل او پاکول يی ضروری دی اوکه نه؟

جواب: په احتمال سره دناپاکی حکم نه سی کيدی نووهم دي نه کوی ([2]). فقط

داودس کولو په وخت کی چی دڅاڅکو وهم وسی نوبدن اوجامه پاکه ده اوکه نه؟ سوال: (**۵۴۵**) داودست او دغسل کولو په وخت کی چی دڅاڅکو خيال اووهم وی نودجامو اوبدن دناپاکوالی حکم به وی اوکه نه؟

جواب: په خيال اوپه وهم سره هيڅ يوشی نه ناپاکيږی، دغسی توهمات دفعه کوی اواعوذ بالله وايااست اوهيڅکله هيڅ قسم وهم مه کوی. ([3]) فقط

په يوځای کی دلندو پښو په ايښودلو سره هغه نه نجس کيږي: **سوال**: (**۵۴۶**) يو چا اودس وکی او لندی پښې يی پرداسی ځای باندی کښيښولی په کم ځای کی چی څپلی ايښول کيږی، اوبيا دجومات پرصفونو باندی وګرځيدی او بيايی دجومات په لوټو باندی لاس ووهی اوپر هغه صفونو باندی يی لمونځ وکی، نوددی څه حکم دی؟

([1]) وعفي الخ بول إنتضح كرؤوس ابر وكذا جانبها الآخر وإن كثر باصابة الماء للضرورة الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۲۹۷، ط.س. ج۱ ص۳۲۲). ظفير

([2]) ولو شك فالأصل الطهارة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۷۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفير

([3]) اليقين لا يزول بالشك (الأشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص۷۵). ظفير

جواب: په دی صورت کی ددی کس پښې ناپاکه نه دی، لهذا صفونه اولوټې ټول پاك دی اواودس اولمونځ دټولو صحیح دی (۱). فقط

دویم فصل : داستنجاء مسائل

ایا دښځو دپاره دلوټو استعمال ضروری دی؟ سوال: (۵۴۷) په لوټه باندی استنجاء کول دمتیازو او دلوی اودس مات پر ځای لکه څه رنګه چې دسړیو دپاره ضروری دی نودغه ډول دښځو دپاره هم ضروری دی اوکه نه؟

جواب: په لوټو وغیره سره استنجاء کول ښځو لره هم دغه ډول مستحب ده لکه څنګه چې دسړیو دپاره دی، په شامی کی دی: قلت بل صرح في الغزنويّة بانها تفعل كما يفعل الرجل الا في الاستبرآء فانها لا استبراء عليها بل كما فرغت من البول والغائط تصبر ساعة لطيفة ثم تمسح قبلها ودبرها بالاحجار ثم تستنجي بالماء (۲) اوپه شامی کی یی تر (نحوحجر) لاندی داسی لیکلی دی چې ټوټه وی اوکه لوټه ټول برابر دی، داهم په شامی کی دی چې که چیري یوازی په اوبو سره استنجا وکړل سی نوسنت به ادا سی خوافضل دادی چې دواړه جمعه کړی یعنی په لوټی یا ټوکر وغیره سره داستنجاء کولو څخه وروسته دي په اوبو سره استنجا وکړی: ثم اعلم ان الجمع بين الماء والحجر افضل الخ (۳) فقط. بنده عزیز الرحمٰن عفی عنه.

داودس وچولو په وخت کی سلام کول یاجواب ورکول صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۵۴۸) داودس وچولو په وخت کی سلام کول یا جواب یې ورکول جائز دی اوکه نه؟

جواب: صحیح دی. (۴) فقط

دښځو دپاره په لوټو باندی استنجاء کول په کار دی او که نه؟ سوال: (۵۴۹) دښځو دپاره په

---

(۱) مشی فی حمام ونحوه لا يتنجس ما لم يعلم أنه غسالة صبر (درمختار) ای كما لو مشى على ألواح مشرعة بعد مشي من برجله قذر لايحكم بنجاسة رجله ما لم يعلم أنه وضع رجله على موضعه للضرورة فتح لا وفيه عن التنجنيس مشى فى طين او أصابه ولم يغسله وصلى تجزيه ما لم يكن فيه اثر النجاسة لأنه المانع الا أن يحتاط اما فى الحكم فلا يجب (ردالمحتار فصل فى الإستنجاء ج۱ ص۳۲۴، ط.س. ج۱ ص۳۵۰). ظفير

(۲) ردالمحتار فصل فی الإستنجاء ج۱ ص۳۱۹ ، ط.س. ج۱ ص۳۴۴. ظفير

(۳) ردالمحتار فصل فی الإستنجاء ج۱ ص۳۱۳ ، ط.س. ج۱ ص۳۳۸. ظفير

(۴) سلامك مكروه الخ من هو فی حال التغوط (درمختار) قوله حال التغوط مراده ما يعم البول (رد المحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج۱ ص۵۷۷، ط.س. ج۱ ص۶۱۲) او دا وخت دمتیازو وخت نه دي بلکه هغه فارغه سویدی یوازي دزړه داطمینان دپاره لوټه استعمالوي اګر چه بیا هم افضل دا دي چي سلام ونه کړل سي او نه يې جواب ورکړل سي ځکه چي من وجه دا وخت په متیازو او لویو بولو کي داخل دي، له دې امله فقهاؤ لیکلي دي: يجب الإستبراء بمشى او تنحنح الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فى الإستنجاء ج۱ ص۳۱۹، ط.س. ج۱ ص۳۴۴). ظفير

لوټو باندی استنجاء کول په کاردی اوکه نه؟
جواب: په لوټو باندی استنجاء کول دښځو دسړیو په حکم کی دی: کما قال فی الشامی قلت بل صرح في الغزنوية بانها تفعل كما يفعل الرجل الا فی الاستبراء فانها لا استبراء عليها الخ. (۱) فقط
داودس وخت ترخومره پوری دی؟ سوال: (۵۵۰) داودس وخت ترکله پوری په کاردی؟
جواب: داستنجاء په باره کی سنت طریقه داده چی مخکی په لوټو سره استنجاء وکړی اوبیا دي په اوبو سره طهارت وکړی (۲). فقط
په یولوټه دوه واره استنجاء کول څنګه دی؟ سوال: (۵۵۱) که چیري یو څا په یوه لوټه سره یوځل کوچنی استنجاء کړی وی نو دوباره په هغه لوټی سره غټه استنجاء کولی سی اوکه نه؟
جواب: په کمی لوټی سره چی یووار استنجاء سوی وی دهغی سره دوباره استنجاء کول مکروه دی، کذا فی الدرالمختار، (۳) لیکن که چیري ضرورت وی دسفر وغیره په وجه سره، نو دوچیدلو څخه وروسته دي هغه وسولوی او دوباره دری واره یا زیات ددي څخه ځو واره په دی سره استنجاء وکړی وروسته ددی کمه مضائقه نه سته. (۴) فقط
داودس وچولو دلوټی کمه خاوره چی پرلاس لګیدلی وی اوپر پرتوګ باندی ولګیږی نو پرتوګ نه پلیتیږی: **سوال**: (۵۵۲) داودس وچولو څخه وروسته لاس دخاوری څخه دصفا کولو څخه مخکی دپرتوګ په تړلو کی لاس پرهغه باندی لګیږی نو پرتوګ پلیتیږی اوکه نه؟
جواب: نه پلیتیږی (۵). فقط
په ولاړی متیازی کول څنګه دی؟ سوال: (۵۵۳) په ولاړه باندی شرعًا متیازی کول څنګه

---

(۱) رد المحتار فصل فی الإستنجاء ص۳۱۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۴۴، كما فی الغزنوية وفيها ان المرأة كالرجل إلا فی الإستبراء فإنه لا إستبراء عليها بل كما فرغت تصبر ساعة لطيفة ثم تستنجی (رد المحتار فصل فی الإستنجاء ج۱ ص۳۱۹، ط.س. ج۱ ص۳۴۴). ظفير
(۲) ثم يمسح بثلاثة أحجار ثم يستر عورته قبل أن يستوي قائما ثم يخرج إلخ ثم يستبرئ فاذا إستيقن بانقطاع أثر البول يقعد للإستنجاء بالماء موضعا آخر (رد المحتار فصل فی الإستنجاء ج۱ ص۲۳۰، ط.س. ج۱ ص۳۳۸). ظ
(۳) وكره تحريما بعظم وطعام وروث يابس كعذرة يابسة وحجر إستنجی به إلا بحرف آخر (درمختار) ای لم تصبه النجاسة (ردالمحتار فصل فی الإستنجاء ج۱ ص۳۱۴، ط.س. ج۱ ص۳۳۹). ظفير
(۴) دا خبره دفکر کولو وړ ده. ظفير
(۵) وتطهر اليد مع طهارة موضع الاستنجاء كذا فی السراجية ويغسل يده بعد الأستنجاء كما يكون يغسلها قبله ليكون أتقی وانظف (عالمگيري الفصل الثالث فی كيفية الإستنجاء ص۴۸ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۵۰). ظفير

دی؟ دحضرت حذیفه (رض) په حدیث پاك کی دی چی حضور ﷺ دیوه قوم پر امبارځای باندی په ولاړه بول کړی وه، نو ددی حدیث پاك څخه په ولاړی متیازی کول ثابتیږی اوکه نه؟ اوکم حدیث پاك چی دحضرت عمر (رض) اودحضرت عائشه صدیقه (رض) څخه دممانعت مروی دی هغه صحیح دی اوکه ضیعف؟

جواب: په ولاړی باندی تشی متیازی کول بی دعذر څخه ممنوع اومکروهه دی اودحضور ﷺ په ولاړی باندی یو وار بول کول دضرورت اودعذر په وجه سره سوی دی اوبغیر دعذر څخه په ولاړی باندی دمتیازو کولو څخه حضور ﷺ منعه فرمایلی ده. ([1]) لکه څنګه چی حضرت عمر (رض) فرمایلی دی چی یو واره زه رسول الله ﷺ په ولاړی په متیازو کولو باندی ولیدم نووی فرمایل چی: یا عمر لاتبل قائمًا بعد، ([2]) یعنی ای عمره په ولاړی متیازی مه کوه نو ددغه څخه وروسته ما هیچیري هم په ولاړی متیازی ونه کړی. فقط

دقطب دستوری طرف ته مخ کول او متیازی کول جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۵۵۴) قطب ته مخ کول اومتیازی کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: دقطب ستوری طرف ته مخ کول او اودس مات کول صحیح دی ځکه چی داحکم دکعبی شریفی دپاره دی چی دهغی طرف ته دقضاء حاجت په وخت کی استقبال او استدبار صحیح نه دی. ([3]) فقط

داستنجاء څخه وروسته لوندوالی او دهغه ترکیب: **سوال**: (۵۵۵) زید ته په سبب دزیات کوروالی دمتیازو څخه وروسته لوندوالی ترنیم ساعته پوری ظاهریږی دلوټی استعمالولو اودپریمنځلو څخه وروسته دوباره دلوټي داستعمالولو ضرورت وی، لهذا دده دپاره داودس څخه وروسته په دی حالت کی لمونځ کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: په داسی صورت کی دی په لوټه او اوبو سره داستنجاء کولوڅخه وروسته دذکر په سوری کی پنبه کښیږدی ددی دپاره چی دلوندوالی دخروج شبهه پاته نه سی، په درمختار کی دی:یستحب للرجل ان یحتشی ان رابه الشیطان ویجب ان کان لا ینقطع الا

([1]) دحضرت حذیفه ﷺ دحدیث څخه وروسته دمشکوة شریف مصنف صراحت کړی دي: قیل کان ذلك لعذر (مشکوة باب آداب الخلاء ص۴۳) قال السید جمال الدین قیل فعل ذلك لأنه لم یجد مکانا للقعود لإمتلاء الموضع بالنجاسة الخ روی ابوهریرة کما اخرجه الحاکم والبیهقی أن النبی صلی الله علیه وسلم بال قائما لحرج ما إلخ إذ لم یتمکن من القعود (مرقاة شرح مشکوة ج۱ ص۲۹۲). ظفیر

([2]) وګوری: مشکوة باب آداب الخلاء فصل ثاني ص۴۳. ظفیر

([3]) کما کره تحریما اسقبال قبلة وإستدبارها لأجل بول او غائط الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأنجاس ج۱ ص۳۵۳، ط.س. ج۱ ص۳۴۱). ظفیر

به قدر ما صلی ([1]) بیا دپنبه ؤ دایښودلو څخه وروسته دي اودس وکړی اولمونځ دي وکړی. فقط

په اوبو باندې داستنجاء په وخت کې ځاځکي راځي نوڅه وکړي؟ **سوال**: (۵۵۲) که یوچاته داسې تکلیف عارض سوی وی چې کله متیازې وکړی اوپه لوټه استنجاء وکړی نوپه اوبو باندې په استنجاء کولو سره ځاځکي راځي، نودې به په لوټه سره استنجاء کوی اوکه نه یوازې په اوبو سره؟

جواب: داستنجاء په باب غوره اوافضله خبره داده چې اول به په لوټه استنجاء وکړی او بیابه په اوبو سره استنجاء وکړی اوکه چیرې یوازې په لوټه او یایوازې په اوبو استنجاء وکړی نودا هم کافی ده اوسنت استنجاء ادا کیږی ([2]). فقط

دمجبورۍ په وخت کې په رسته لاس اوپه خاص ډول جوړ سوی کاغذ باندې داستنجاء کول جائز دي اوکه نه؟ اویوازې په لوټه باندې استنجاء کول څنګه دي؟ **سوال**: (۵۵۷) یو څوک دی چې دفالج دوهل کیدو دوجه څخه یې چپه لاس دکار څخه لویدلی دی، نودی په رسته لاس باندې طهارت اواستنجاء کولی سی اوکه نه؟ اوکله چې داممکن نه وی نویوازې په لوټه اکتفاء کیدی سی اوکه نه؟ اودلوټې داستعمال څخه وروسته دزیاتې صفایي دپاره اودجامو دلوندوالی څخه دبچ کیدلو دپاره په یوه ټوټه اویاپه بل یوشي سره صفایي ضروري یامناسب ده اوکه نه؟ اوکه چیري په سفرکې لوټه پیدا نه سی نویو خاص قسم کاغذ کم چې انګریزان استعمالوی او دډاکټری اجزاؤ څخه جوړ سوی وی ددې استعمال دسخت ضرورت په درجه کې څنګه دی؟

جواب: دغه شخص به په رسته لاس ځان پاکوی، اوکه داهم نه کیږی نوپه لوټه اکتفاء کول هم جائز دي، اوپه ټوټه هم ځان پاکولی سی دمجبورۍ اودسفر او دنورو په وجه په ذکر سوی کاغذهم صفایي کول صحیح دی. په درمختار کې دی: کره تحریـمًا بعظم الخ

---

[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطهارة نواقض الوصوء ج۱ ص۱۳۹، ط.س. ج۱ ص۱۵۰. ظفیر

[2] ثم اعلم أن الجمع بین الماء والحجر افضل ویلیه فی الفضل الإقتصار علی الماء ویلیه الإقتصار علی الحجر وتحصل السنة بالکل وإن تفاوت الفضل (ردالمحتار فصل فی الإستنجاء تحت قوله سنة مطلقا الخ ج۱ ص۳۱۳، ط.س. ج۱ ص۳۳۹) ددا ډول سړي لپاره مناسبه داده چې په ګرځیدلو، ټوخیدلو اویا کښینستلو او ولاړیدلز سره خپل اطمینان حاصل کړي: ویجب الإستبراء بمشی او تنحنح اونوم علی شقه الأیسر ویختلف بطباع الناس (درمختار) أما نفس الإستبراء حتی یطمئن قلبه بزوال الرشح فهو فرض وهو المراد بالوجوب ولذا قال الشرنبلالي یلزم الرجل الإستبراء حتی یزول اثر البول ویطمئن قلبه الخ فلا یصح الشروع فی الوضوء حتی یطمئن بزوال الرشح (رد المحتار فصل فی الإستنجاء مطلب فی الفرق بین الإستبراء والإستقاء ج۱ ص۳۱۹، ط.س. ج۱ ص۳۴۴ – ۳۴۵). ظفیر

ويمين ولا عذر بيسراه فلو مشلولة ولم يجد ماءًا جاريًا ولا صابا ترك الماء. (1) فقط

شمال اوجنوب ته مخ کول او استنجاء کول ممنوع نه دی. **سوال**: (۵۵۸) دقبلې دطرف څخه ماسوا دشمال اوجنوب طرف ته مخ کول اوبول اوبراز ممنوع دی اوکه نه؟

جواب: ممنوع نه دی. (2) فقط

په استنجاء کې طاق عدد: **سوال**: (۵۵۹) دغـائطو پـه بـاره کـې چـې پـه حدیث کـې کـم وتـر عدد دلوټو را اخیستلو دپاره راغلی دی آیا داوتر عدد دکوچنیو متیازو دپاره راغلی دی یعنی دری لوټې او ددواړو متیازو دپاره جلا لوټې را اخیستل لازم دی یعنی دری را اخیستل دی که څلور؟ اوپه حدیث پاك کې چې دوتر عدد دی، ددي څخه څه مراد دی؟

جـواب: هغـه وتـر لـوټې دغـائط دپـاره دی او دکوچنیـو متیـازو دپـاره څلورمـه لوټـه را اخیستل ضروری دی. (3)

دمړی استنجاء په اوبو اولوټې دواړو سره کولی سی اوکه نه څرنګه طریقه وکړل سی؟ **سوال**: (۵۶۰) دمړی استنجاء په لوټو او اوبو دواړو سره وسی اوکـه نـه؟ مـا پـه کتـاب جـواهر نفیس کې لیدلی دی چې: دمړی استنجاء په لوټه باندی مکروهه ده اومړی لـره پـه اوبـو باندی په استنجاء کولوکی هم اختلاف دی، دحضرت امام ابویوسف (رح) پـه نـزد بانـدی مړی لره استنجاء کول په لوټه سره وی اوکه په اوبو سره مکروهه دی او دطرفینو (رح) په نزد په اوبو سره مړی لره استنجاء جائز ده په دی صورت کې شرعًا څه حکم دی؟

جواب: دفقهی په کتابونوکی تصریح سویده چې په استنجاء کې داوبو او دلوټو یوځای کـول سـنت دی اوهمـدا افـضل دی لکـه چـې پـه شـامی کـې دی: فكـان الجمـع سـنة علـى الاطلاق في كـل زمـان وهـو الـصحيح وعليـه الفتـوىٰ (4) بيـا وروسـته ليكـي: ثـم اعلـم ان الجمع بين الماء والحجر افضل ويليه فـي الفـضل الاقتـصار علـى المـاء ويليـه الاقتـصار على الحجر وتحصل السنة بالكل الخ (5) شامی فصل فی الاستنجاء، نوکله چې دطرفینو

---

(1) الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فی الإستنجاء ج۱ ص۳۱۴ – ۳۱۵، ط.س. ج۱ ص۳۳۰. ظفير

(2) كما كره تحريما إستقبال قبلة وإستدبارها لأجل بول او غائط الخ ولو فی بنيان لإطلاق النهی (درمختار) قوله لإطلاق النهی وهو قوله صلى الله عليه وسلم: إذا أتيتم الغائط فلا تستقبلوا القبلة ولا تستدبروها ولكن شرقوا او غربوا، رواه السنة (ردالمحتار باب الإستنجاء ج۱ ص۳۱۲، ط.س. ج۱ ص۳۴۱). ظفير

(3) وكيفية الإستنجاء أن يجلس معتمدا على يساره منحرفا عن القبلة والريح والشمس والقمر ومعه ثلاثة احجار يدبر بأحدها ويقبل بالثاني ويدبر بالثالث الخ وفی الدراية ولنا كيفية الإستنجاء هو أن يأخذ الذكر بشماله ويمره على حجر او مدر (عيني شرح هدايه باب الإستنجاء ص۴۲۹ ج۱). ظفير

(4) رد المحتار فصل فی الإستنجاء ج۱ ص۳۱۳، ط.س. ج۱ ص۳۳۸. ظفير

(5) ثياب الفسقة واهل الذمة طاهرة (درمختار) قال فی الفتح وقال بعض المشائخ تكره الصلوة فی ثياب =

په نزد دمړی دپاره استنجاء سنت ده، نو دشامی دتصریح پربنیاد مطلقا دلوټو اوداوبو جمع کول افضل دی اوسنت دی علی الاطلاق لهذا په لوټی سره مړی لره استنجاء کولو ته مکروهه ویل صحیح نه معلومیږی.

دغیر مسلمو فوځیانو په مستعملو جامو کی به لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟ سوال: (۵۲۱) اکثره دغیر مسلمو اشخاصو او انګریزی فوځیانو جامی دلیلام څخه مسلمانان په بیعه باندی اخلی په دغوجامو کی بغیر دپریمنځلو څخه لمونځ کیږی اوکه دپریمنځلو څخه وروسته یی اغوستل په کاردی؟

جواب: بغیر دپریمنځلو څخه یی اغوستلی سی اولمونځ پکښی کولی سی. (۱)

په لوټی سره داستنجاء کولو څخه بعد یې اوبه را اخیستل هیر سوه نولمونځ وسو اوکه نه؟

سوال: (۵۲۲) په یوې لوټی سره یی استنجاء کړی وه اوغټه استنجاء ورڅخه هیره سوه. او دلمانځه دکولو څخه وروسته وریاده سوه نولمونځ جائز دی اوکه نه؟ کوچنۍ استنجاء یې په اوبو سره کول هیر سوه اولمونځ یی وکړی نولمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په اول اودویم صورت کی لمونځ وسو، اوصحیح دی داعادی ضرورت یی نسته. (۲)

په استعمال سوو لیلامي جامو کي لمونځ کول صحیح دي اوکه نه؟ سوال: (۵۲۳) دانګریزانو وړیني جامي لیلامیږي په هغوی کي دناپاکي څه شبهه سته، آیا په دوی کي لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: په شبهې سره دناپاکۍ حکم نه کیږي (۳) نودغه جامې استعمالول او په هغو کي لمونځ کول صحیح دي مګر ښه خبره داده چي ومینځل سي، البته ځیني داسي جامې وي چي په هغو کي دنجاست ګمان غالب وي، لکه پرتوګ نوپه هغه کي دي دمینځلو څخه

= الفسقة لأنهم لا يتقون الخمور قال المصنف يعنى صاحب الهداية الأصح انه لايكره لأنه لم يكره من ثياب اهل الذمة إلا السراويل مع إستحلالهم الخمر فهذا هو الأولى آه (رد المحتار فصل فى الإستنجاء قبيل كتاب الصلوة ج۱ ص۳۲۴. ط.س. ج۱ ص۳۵۰). ظفير مفتاحي

(۱) والغسل بالماء بعده اى الحجر الخ سنة مطلقا به يفتى (درمختار) ثم اعلم ان الجمع بين الماء والحجر افضل ويليه فى الفضل الإقتصار على الماء ويليه الإقتصار على الحجر وتحصل السنة بالكل وإن تفاوت الفضل (رد المحتار فصل فى الإستنجاء ج۱ ص۳۱۲ – ۳۱۳، ط.س. ج۱ ص۳۳۷ – ۳۳۹). ظفير

(۲) اليقين لايزول بالشك (الأشباه والنظائر مع شرح حموي) ولوشك فالأصل الطهارة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المياه ج۱ ص۱۷۱، ط.س. ج۱ ص۱۸۲). ظفير

(۳) والصلوة فى سراويلهم (إلى قوله) إن علم ان سراويلهم نجسة لا تجوز الصلوة فيها وإن لم يعلم تكره الصلوة فيها ولو صلى يجوز (عالمگيري مصري كتاب الكراهية باب الرابع عشر فى أهل الذمة ج۱ ص۳۵۹، ط. ماجدية ج۱ ص۳۴۷). محمد ظفير الدين عفى عنه

پرته لمونځ نه کوي، په شامی کی دی: من هنا قالوا لا بأس بلبس ثياب اهل الذمة والصلٰوة فيها الا الازار والسراويل فانها تكره الصلاة فيها لقربها من موضع الحدث الخ (۱). فقط

تم الجزء الاول من (فتاوى دار العلوم ديوبند) ويليه الجزء الثانى اوله كتاب الصلوة تحت اشراف صاحب الفضيلة حكيم الاسلام مولانا الحافظ القارى محمد طيب دام فيوضه (مدير دارالعلوم ديوبند) ، ولقد بذلت الوسع فى تصحيحه وترتيبه وتعليقه بمراجعة ما يقتضى الرجوع اليه فى تدقيقه من كتب الفقه والحديث والتفسير والاصول وغير ذلک، والله الهادى الى الصواب وصلى الله على سيد المرسلين وعلى آله وصحبه اجمعين. محمد ظفير الدين

محرم المحرام سنه ۱۳۸۲هـ

کمپوزنگ

سعيد حميد صاحب

تاريخ

الاحد ، ۰۷ جمادی الثانیۃ ، ۱۴۳۰

العلم کمپیوټرز ، کوئټه

al-ilmcorp@hotmail.com



(۱) رد المحتار باب المياه قبيل فصل فى البئر ج۱ ص۱۹۰، ط.س. ج۱ ص۲۰۵، ددي عبارت څخه وروسته دي: وتجوز لأن الأصل الطهارة وللتوارث بين السلمين فى الصلوة بثياب الغنائم قبل الغسل وتمامه فى الحلية (ايضا، ط.س. ج۱ ص۲۰۲). محمد ظفير الدين غفر له

فتاویٰ دارالعلوم دیوبند

مدلل و مکمل

پښتو

۲



دموجوده وخت په دار الافتآء کې دمروجه نسخو مطابق، دنوي تخريج سره اعلیٰ کمپوټري چاپ

فتاویٰ دار العلوم دیوبند

مدلّل و مکمّل

په آسانه او روانه کندهاري پښتو

دوهم جلد ❷

کتابُ الصّلٰوة (رُبعِ اوّل)

تالیف: مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی ؒ
((ددار العلوم دیوبند اول مفتی))

په لار ښوونه د: حکیم الاسلام حضرت مولانا قاري محمدطیّب صاحب ؒ (مهتمم دارالعلوم دیوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفیر الدین صاحب، رفیقِ شعبۀ ترتیبِ فتاوٰی دار العلوم دیوبند

اضافه تخریج جدید: مولانا مفتی محمد صالح، رفیقِ دارالافتآء جامعة اسلامیه، بنوری ټاؤن کراچی

ژباړه ، تعلیق او تحقیق: مولانا الحافظ محمّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانیه، پشاور

زیرِ نګراني: شیخ الحدیث حضرت مولانا الشیخ عبد القادر النهرکاریزي (دامت بر کاتهم العالیة)

مکتبه حبیبیه

کاسي روډ، کوئټه ☎ : 0812662448

al-ilmcorp@hotmail.com
لومړی چاپ

۱۴۳۰ ربيع الاول هـ \ مارچ 2009 م

Maktabah Habibiyah
مکتبۀ حبيبيۀ

Publishing Organization
خپروونکې اداره

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارګ بازار ، کندهار ، افغانستان ، ګرځنده تليفون
Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجدِ نور ، کوئټه ، تليفون شميره
AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپيوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تليفون شميره

دفتاوٰی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست، حصه ❷

تمّت الفهرست

❋ ❋ ❋

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الحمد لله وكفٰى وسلام على عباده الذين اصطفٰى، امَّا بعد :

دنيا چې په کمه تيزی سره مخکې روانه ده داځه پته خبره نه ده دهر دور څه خصوصيات وی دموجوده دور په خصوصياتو کی ښکاره شی دخاکسار په نزد ترحد زيات آسانی لټول او پلټل دی، اوددې سره پرهر قدم باندی دسبب پلټنه او جستجو چی دهری درجی سړی وی که دهغه دفقهی او فتاوی سره څه مناسبت وی اوکه نه وی، خوهغه پرهر حکم باندی تنقيد او تبصره خپل اولين حق او خوندوره فريضه ګنی.

آسانی لټول او تلوارکول خوپه انسانی طبيعت کی داسی اخښل سويدی چی څوك ددې خلاف يو لفظ هم اوريدل نه خوښوی، چی چاته وګوری اوکم ځای چی وګوری هغه دزمانې درفتار اودهغې درواج او رسم څخه ډير زيات مرعوب دی اوهم ددې نتيجه ده چی تدبّر او تفکّر او دور انديشی او معامله فهمی ختميږی. دکم شی نوم چی غور او سوچ دی هغه بالکل تش په نامه پاته سويدی کله چی زه سوچ کوم چی ددې سرسری نظر کولو انجام به څه وی نو زړه می په درزيدو سی.

ټولو ته معلومه ده چی اسلام دخدای تعالی ﷻ دټولو څخه آخری اوخوښ کړی مکمل دين دی او دده آئين او قوانين انسان نه بلکه خالقِ کآئنات جوړ کړی دی، دکومو تشريح او وضاحت چی رحمتِ کآئنات ﷺ په خپل درويشت ۲۳ کلن دورِ نبوت کی په مختلفو مواقعو کی فرمايلی دی اوصحابه کرامو رضي الله عنهم په هغه باندی په عمل کولو سره ښه صفا کړی دی، اوکله يې هم په هغه ګونجی والی کی پرې نښووی، او دهغوی رضي الله عنهم څخه وروسته ائمه مجتهدينو او دامت علمآء دکتاب او سنت په رڼا کی دفقهی په نوم سره دغه دفعات مدوَّن کړل چی دهغې تفصيل داولی حصې په مقدمه کی تير سويدی خو دحالاتو په خپريدو سره په هغه کی برابره اضافه کيدله، کله چی به نوی مسآئل پيدا سول نو راسخين فی العلم عالمانو به دهغې حل تلاش کی او عوام به يې دهغې څخه خبردار کړل، اوآئنده به هم خاص دغه ډول کيږی، داسلسله پرهيڅ منزل باندی دريدونکی نه ده.

ليکن عجيبه خبره داده چی ددې هرڅه پيژندلو او مشاهده کولو باوجود دأمت پرعالمانو

باندی دتنگ نظرۍ اوبی خبرۍ الزام دی، او دا مکروهه پروپیګنډه دعوامو او خواصو په ژبه کیږی، بلکه ددې څخه زیات دتعلیم یافته حضراتویوه طبقه چی پکښی ددوربینۍ اودین فهمۍ صلاحیت نسته، په هر هغه چاپسی تللو ته اماده کیږی څوك چی دالله ﷻ پاك دین دخپل غلط ذوق مطابق مسخ کړی پیش کوی او دتحریفِ معنوی په لعنت کی ګرفتار وی، عوامو اوخواصوته څرنګه یقین ورکړل سی چی دامت دعلماؤ ذمه داره طبقه دزمانې اودهغې دتیزګامۍ څخه یوه لحظه هم غافله نه ده، دهغوی ګوتی هروخت دزمانې درفتار پر نبض باندی وی او دهغوی لیری کتونکی نظرونه ددورِ جدید پرطرف او لار باندی لګیدلی دی، او هغوی ته داهم احساس دی چی په دینی امورو کی دګرفت سستولو مطالبه په شدت سره جاری ده، او دعلمآؤ خلاف دزمانې سره دنه تللو ګیله عامه ده، اوپه دغه ډول مطالباتو او شکایتو باندی دتوجه نه ورکولو نتیجه ده چی دنیا اخته ده زمورِ څخه بدګمانه کیږی.

خو ددې سره ددې طبقې په وړاندی دبنی اسرآئیلو علماوو، مسیحی پادریانو او دنورو مذاهبو دپیشوایانو تاریخ هم دی چی هغوی دعوامو دخوشحالولو دپاره دخپل خپل مذهب نقشه څه رنګه بدله کړه، اودهغه څخه یې څه شی جوړکی، بیا دهغوی سره دخپلی عظیم الشانی ذمه وارۍ احساس هم دی کمه چی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ دطرفه څخه پرهغوی باندی عآئده کیږی، اودهمدې احساس نتیجه ده چی علمآءِ دین په پوره میړانی سره پرخپل ځای ولاړ دی او هم هغه کوی څه چی دکتاب اوسنت په رڼاکی هغوی لره کول پکاردی، او الله ﷻ دی وکړی چی ددوی په دې استقامت کی دسر دوربینته غوندی فرق رانه سی، داخبره ځکه په ژبه راځی چی دعوامو څنګه مطالبه ده که چیری ددې بیریدل وسوه اوڅه ګام پورته کړل سو نو ډیره ممکنه ده چی هسی نه داسی ونه سی چی دین دماشومانو لوبه جوړه سی او دهغه دتقدس او وقار ښیښه ماته ماته سی.

دپاکستان دعآئلی کمیشن رپورټ، دمنکرینِ حدیث مسخ کوونکی اجتهادات، اودنورو روشن خیاله دینی جماعتونو غلط تعبیرونه اودهغوی لړزه راوستونکی انجام زمورِ دسترګو په وړاندی دی. دا جلا خبره ده چی علمآءِ قآئمین بالحق او راسخین فی العلم باندی چی دزمانې انقلاب کمی نوی ذمه واری اچولی دی هغوی دهغه پرځای راوړل خپل فرض ګڼی او په دې سلسله کی چی هغوی ته څه کول پکار دی هغه کوی او انشآء الله همیشه به یې کوی.

ښه یاد ساتۍ چی (اَلدِّیْنُ یُسْرٌ) دین دآسانۍ دوهم نوم دی، نه په دې کی تنګی ده اونه سختی، نه زیاتوالی دی اونه کمی، بلکه دده په خمیره کی برابروالی دی او دهردور سره

دچلند بې فنا قوت، هغه په خپل ځان کی بې انتهاء کشش او جاذبیت لری، دحضور پاك ﷺ دطرف څخه ددین معلمینو ته هدایت دی چی آسانی کوی، سختی مه کوی، خوش خبری اوروی اونفرت مه خپروی.

ددین په احکامو کی چی کم وسعت او همه گیری او رفق او سهولت دی هغه هرڅوك پیژنی، دطهارت په باب کی داوبو داستعمال حکم دی، خو داوبو دنیستوالی یا داوبو پر استعمال باندی دقدرت نه لرلو په صورت کی خاوره دهغه قآئم مقام گرځول سویده او هغه هم دغه ډول چی داودس او دجنابت دواړو دپاره په خاوره یا یو بل شی چی دخاورو په حکم کی دی په هغه باندی به ددواړو لاسونو ورغوی ووهی اومخ او دواړوه لاسونه دی صرف ترخنگلو پوری مسحه کړی، په خاوره اوپه اوبو کی چی کم مناسبت دی هغه پرهغه خلگو باندی ظاهر دی چاته چی علم دی چی ددې دواړو دانسان او دنور مخلوق په پیدا ایښت اونشو اونما کی څه برخه ده، په عباداتو کی لمونځ یوعظیم المرتبة عبادت دی او دومره عام دی چی هیڅ یو عاقل او بالغ مسلمان ته معاف نه دی په لمانځه کی قیام که څه هم چی فرض دی خوچی چاته په قیام اونورو باندی قدرت نه وی نو هغوی ته په ناسته داداء کولو اجازت دی، اوکه چیری پردې باندی هم قادر نه وی نوپه پروته به یې کوی، دغه ډول دفرض لمونځونو اداء کول په جمع سره سنتِ مؤکده بلکه واجب دی، اودمسجدونو ټول نظام دهمدې سره تړلی دی، خوکه چیری څه عذرِ شرعی وی، نوبیا هغه ته دجماعت دپرېښوولو اجازت حاصل دی، دغه شان دمقیم دپاره دسنتو اودهر فرض لمونځ ټول رکعتونه اداء کول ضروری دی لیکن دمسافر دپاره دآسانی په اعتبار دڅلورو پرځای صرف دوه کول، او دنور ضرورت په وخت کې هم سنت ورته معاف دی.

بیا دلمونځ ترکیبی هیئت او دهغه چی کم شرطونه او صفات دی په هغه کی په هیڅ یوه کی هیڅ سختی نسته، اوچی کم التزام ضروری گرځول سویدی هغه ټول نفع رسوونکی او دانسانی ژوند ښایسته کوونکی او پاکیزگی بخښونکی دی، لنډه داچی دین آسان هم دی اوپه لږ تر لږه وخت کی اداء کیدونکی هم اوکم اوبیش هم، دا ټول سهولتونه په نورو عباداتو کی هم حاصل دی، کاشکی! چی عام مسلمانان داسلام څخه په پوره ډول خبر وای نوهغوی ته به دا معلومه سوی وای چی اسلام څومره آسان دین دی او انسانی نفسیاتو ته څومره نژدی دی.

ددې حصې په ترتیب کی هم دهغه ټولو امورو لحاظ ساتل سویدی دکومو تفصیل چی په اولنۍ حصه کی راغلی دی. مخکی اراده وه چی ټول کتاب الصلوٰة به په یوه جلد کی یا ډیر تر ډیره په دوو جلدونوکی راسی، خو ددې جلد دزیاتیدونکی ضخامت او دخلگو

دآسانی په سبب ددې متعدد جلدونه جوړ سوه.

په مسائلوکی دتکرار حذف کولو اهتمام په دې جلدکی هم سویدی خو دبعضو مسآیلو داهمیت او دسوالاتو دمختلف نوعیت په وجه سره په دوو درو مسئلو کی دضرورت مطابق تکرار باقی ساتل سویدی، اوپه بعضو مسآئلو کی تکرار دانسانی نسیان په وجه هم پاته سویدی، خو هغه ډیرکم دی لیکن دتکرار دا مطلب هیڅکله نه دی چی گواکی دیوه سآئل سوال اوجواب مکرر سویدی بلکه سآئل هم بل دی او دسوال اودجواب الفاظ هم بدل او په جلا جلا وختونو کی لیکل سویدی.

دبشری هیری اودغلطۍ څخه څوك پاك دی چی دا خاکسار دی ورڅخه دپاکیدو دعوه وکړی لیکن دخپل جد اوجهد اودمحنت او دخواری ترحده پوری چی می کولی سوای په هغه کی می هیڅکله کوتاهی نه ده کړی، کامیابی دپاك رب العزت ﷻ په لاس کی ده، دعاء ده چی الله ﷻ دی داحقیر خدمت قبول کړی او دا دی دعلماؤ په نظر کی مقبول او خوښ او دعوامو دپاره تر ډیر لا ډیر داستفادې لائق جوړ کړی، او ورسره دی دمرتِّب (مترجِّم، مصحِّح، کاتب او ناشر) دپاره په دنیا او آخرت دواړو کی دا مجموعه دفلاح او نجات ذریعه ثابته سی. رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ. فقط

ددعا غوښتونکی

محمد ظفیر الدین غفرله، پوره نوډیهاوی، دار الافتاء دار العلوم دیوبند

۱۵\ربیع الثانی \ سنة ۱۳۸۳ هـ ق



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله رب العالمين والصلٰوة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین.

کتاب الصّلٰوة

دلمانځه اهمیت او دهغه فضآئل

دهری طبقی دمسلمانانو دپاره دلمانځه دپابندۍ څه صورت دی ؟ سوال: (۱) دهری طبقی مسلمانان دلمانځه پابنده څرنګه کیدلی سی ؟

جواب: الله ﷻ فرمایی: وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ، الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلَاقُو رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ([1]) ترجمه: او بیشکه لمونځ درووند دی خوپر هغو خلګو نه دی درووند څوك چی عاجزی کوونکی دی چاته چی یقین دی چی دوی دالله ﷻ سره یوځای کیدونکی دی او دوی دهغه طرفته ورګرځیدونکی دی.

نو معلومه سوه چی اول دی خوفِ الٰهی او خوفِ قیامت او دقیامت احوال اوپه بارګاهِ الٰهی کی دپیش کیدلو خیال په زړه کی پیدا کړی اوپه هغه کی دی فکر وکړی او بیا هغه بشارت او ثواب کم چی په احادیثو کی دلمانځه کوونکو دپاره وارد دی وګوری او واوری او دلمانځه فضآئل سترګو ته را وړاندی کړی نو په دې طریقه سره امید دی چی دلمونځ شوق به ورته پیدا سی، اوچی کله پردې باندی غور وکړی چی (احبّ الاعمال الی الله ادومها) ([2]) یعنی زیات محبوب عمل دالله ﷻ په نزد هغه دی پرکم باندی چی دوام او همیشه والی وسی اودغه ډول په دی قسم احادیثو کی چی غور وکړل سی، لکه قال رسول الله: أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا مَا تَقُولُ ذٰلِكَ يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ قَالُوا لَا يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ شَيْئًا قَالَ فَذٰلِكَ مِثْلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا. ([3]) ددې حاصل دادی چی نبی کریم ﷺ دصحابه کرامو رضي الله عنهم څخه پوښتنه وکړه چی که چیری دچا ددروازې مخ ته یو نهر وی چی شپه او ورځ پنځه وخته په هغه کی لمبیږی نو آیا دهغه پربدن به څه خیره پاته سی؟ صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم عرض وکی چی باقی به پاته نه سی ، حضور ﷺ وفرمایل

([1]) البقرة رکوع ۳ آیت : ۴۶\۴۵. ظفیر

([2]) مشکوٰة باب القصد فی العمل، الفصل الاول ص ۱۱۰. ظفیر

([3]) مشکوٰة کتاب الصلوة ص ۵۷. ظفیر

چی همدا مثال دپنځو واړولمو نځونو دی چی ددوی په وجه سره انسان دګناهونو څخه پاك صاف سی. نوهغه سړی به پوخ لمونځ ګذار سی او وقتًا فوقتًا به دلمونځ دمسآئلو په تحقیق او لټون کی اوسی. اوپه حکم د: مَنْ جَدَّ وَجَدَ (۱) ضروری دی چی هغه به په خپل کوشش کی کامیاب سی نو ضروری سوه چی دلمونځ په لوړوالی او فضیلت کی کم احادیث وارد دی هغه دمشکوٰۃ شریف په کتاب الصلوٰۃ کی وګوری یایې دچا څخه واوری، اوکه چیری دغه سړی په عربی نه پوهیږی نومظاهرِ حق ترجمه دمشکوٰۃ شریف دی وګوری، (چی دا په اصل کی اُردو وو خو اوس پښتو ته هم ترجمه سویدی).

غرض داچی دهری طبقې مسلمانانو ته امید دی چی په مذکوره طریقې سره نفع ورته ورسیږی او دلمونځ کولو شوق به یې پیداسی، اوکم خلګ چی په خپله ددې کار پابندي نه کوی هغوی ته دی نور خلګ کم چی پوهیږي دا خبری واوروی او دبیرولو او زیری ورکولو دآیتونو او احادیثو ترجمه اومطلب دی ورته واوروی او وښیی، نو ډیره ضرور ده چی په حکم د: وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِينَ (۲) هغوی ته به دا نصآئح نافع او مُمِد (ګټمن) وی، په اقامتِ صلوٰۃ بلکه په اتباع دټولو دینی احکامو باندی. والسّلام

ځوک چی په پابندۍ سره لمونځونه نه ادا کوی هغه ته به ثواب ورکول کیږی که نه؟ سوال:
(۲) ځوك چی کله کله یونیم لمونځ پریږدی اوبعضی لمونځونه ادا کوی هغه ته به دادا کړو لمونځونو ثواب ورکول کیږی اوکه نه ؟

جواب: داداسوو لمونځو ثواب به ورکول سی اودترك سوولمونځوبه ورته عذاب وی. (۳)

درشوت خور لمونځ مقبول دی اوکه نه ؟ سوال: (۳) یو سړی علاوه دمیاشتنۍ تنخواه څخه رشوت ښه اخلی دهغه لمونځ مقبول دی اوکه نه ؟

جواب: لمونځ یې مقبول دی اودلمونځ ثواب به ورته حاصلیږی اودرشوت ګناه به یې وی قال تعالٰی: وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا. (۴) فقط

---

(۱). یعنی چاچی کوشش وکی هغه مقصود ته ورسیدی. الحقانیؔ

(۲). الذاریات رکوع ۲ . ظفیر

(۳). وتارکها عمداً مجانة ای تکاسلا فاسق یحبس حتی یصلی ؒ وقیل یضرب حتی یسیل منه الدم وعند الشافعی بصلاة واحدة حداً وقیل کفر (الدر المختار علی هامش رد المحتار، کتاب الصلٰوة ج۱ ص۳۲۲، ط.س. ج۱ ص۳۵۲) وفساد اصل الصلٰوة بترك الترتیب موقوف الخ فان کثرت وصارت الفوآئت مع الفائتة ستًّا ظهرت صحتها (ایضًا، باب قضآء الفوآئت ج۱ ص۲۸۴، ط.س. ج۱ ص۷۰ – ۷۱). ظفیر

(۴).سورة التوبة، رکوع ۱۳. ظفیر

که چیری دیو لمونځ ګذارمتعلقین لمونځ نه کوی نو آیا ددې په وجه به پرلمونځ ګذار باندی څه جرم عائد کیږی: **سوال**: (۱\۱۱۴ الف) دیوې محلې مسلمانانو دا انتظام کړیدی چی کم سړی دکم وخت لمونځ ونه کړی نو جرمانه به اداکوی اودتارك الصلوٰة سره به ناسته ولاړه نه ساتی، په دغه محله کی زید په خپله خولمونځ کوی خو دهغه متعلقین لمونځ نه کوی، زید ته چی وویل سوه نو جواب یې ورکی چی هغوی لمونځ نه کوی نو زه څه وکړم، مجبوری ده ؟ هغه ته وویل سوه چی تعلقات مه ورسره ساته نو زید دا جواب ورکی چی دا هم نسی کیدی مجبوری ده. فقط

(ب): دزید دا ویل چی مجبوری ده، دمعافی قابل دی اوکه نه ؟

دداسی سړی امامت صحیح دی اوکه نه ؟ **سوال**: (۲\۵) کله چی زید دتارك الصلوٰة سره ناسته ولاړه ساتی نو په زید پسی لمونځ کول پکار دی اوکه نه ؟

دداسی سړی سره دی تعلقات وساتل سی اوکه نه ؟ **سوال**: (۳\۶) دزید سره دی تعلقات وساتل سی اوکه نه ؟

دلمونځ ګذار جوړولو دپاره مالی جرمانه جآئز ده اوکه نه ؟ **سوال**: (۴\۷) پرلمونځ باندی دراوستلو دپاره ددې قسم اثر څخه کار اخیستل په شریعت کی جآئز دی اوکه نه ؟

جواب: ۱. که چیری زید نصیحت وکی اوهغوی ونه منل نو دزید پر ذمه مؤاخذه نسته، قال الله تعالی: وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرٰی (۱) وقال تعالی: لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ. (۲)

۲. دزید امامت په دې صورت کی مکروه نه دی، په هغه پسی لمونځ صحیح دی.

۳. دزید سره په تعلقاتو ساتلو کی هیڅ ګناه نسته.

۴. دلمونځ تاکید دخپل وس موافق ښه پوره کول پکار دی لیکن مالی جرمانه کمه چی شرعًا ناجآئزه ده دانه دی کول پکار، (۳) هسی تنبیه کول اوبیرول هرڅول پکاردی اوپه نه منلو باندی دهغه سره انقطاع کول اوتعلق پرېښوول مناسب دی. (۴) فقط

---

(۱). سورة بنی اسرآئیل، رکوع ۲. ظفیر

(۲). سورة النسآء رکوع ۱۱. ظفیر

(۳). لا یاخذ مال فی المذهب بحر، وفیه عن البزازیة قیل یجوز ومعناه ان یمسکه مدة لینزجر ثم یعیده له فإن أیس من توبته صرفه إلی ما یری، وفی المجتبی انه کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ (درمختار) قوله: لا یاخذ مال قال فی الفتح وعن ابی یوسف یجوز التعزیر للسلطان باخذ المال وعندهما وباقی الائمة لا یجوز آهـ ومثله فی المعراج فظاهره ان ذلك روایة ضعیفة عن ابی یوسف قال فی الشرنبلالیة ولا یفتی بهذا لما فیه من تسلیط الظلمة علی اخذ مال الناس الخ (ردالمحتار باب التعزیر مطلب فی التعزیر باخذ المال ج ۳ ص۲۴۲، ط. س. ج۱ ص۲۲۱). ظفیر　=

آیاذکر الله دفرض لمونځوڅخه بهتر دی؟ سوال: (۸) دصوفیانو یوه ډله وایي چي دالله ﷻ ذکر په جماعت سره ترېنځو لمونځونو او ترنورو فرآئضو غوره دي، اوکه په اذکارو باندي دمشغولتیا په وجه فرض پاته سي نو قضاء یې نسته او ګناهګاریږي هم نه، په دې آیت باندي دلیل نیسي: إِنَّ الصَّلاةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْـمُنْكَرِ وَلَذِكْرُ الله أَكْبَرُ، آیا ددوی قول صحیح دی که نه ؟

جواب: ددوی دا قول باطل دی لکه څنګه چي په صحیح حدیث کي راغلی دي: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْد رضي الله عنه قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى الله قَالَ الصَّلَاةُ عَلٰى وَقْتِهَا قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ ثُمَّ الْـجِهَادُ فِي سَبِيلِ الله، الحدیث (۱) وقال الله تعالى: حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلاةِ الْوُسْطٰى (۲) دټول امت په اتفاق سره لمونځ فرض دی او دالله ﷻ ذکر دمستحباتو څخه دی اوپر دې باندي اتفاق دی چې فرض تر مستحب غوره دی، او دآیت معنی داسي ده چي لمونځ ځکه تر نورو عباداتو بهتر دی چي دالله ﷻ ذکر پکښي موجود دی، قال فی الكمالين: فالصلٰوة لما كان كلها مشتملة بذكر الله تعالٰى تكون اكبر الخ. (۳) فقط

دسآئنسي تجرباتو په وجه لمونځ قضا کول صحیح دي اوکه نه؟ سوال: (۹) که چیری دسآئنس په دار التجربات (تجربه ګاه) کی دسآئنس تجربه کول کیږی اودلمونځ وخت هم دی نو آیا دا مجبوری داسی ده چی ددې لمونځ دبل لمونځ سره دقضا راګرځولو اجازت دی؟

جواب: په دې وجه سره لمونځ قضا کول جآئز نه دی. (۴)

لمونځونه کله فرض سول: **سوال**: (۱۰) آیالمونځ خاص دمعراج دشپې څخه فرض سویدی؟

جواب: لمونځ خاص دمعراج په شپه کی فرض سویدی څنګه چی دصحیح احادیثو څخه ثابته ده، دمشکوٰۃ شریف پښتو ترجمه (مظاهرِ حق) وګوری. (۵) فقط

---

(۴). وتاركها عمداً مجانة اى تكاسلا فاسق يحبس حتى يصلى الخ وقيل يضرب حتى يسيل منه الدم (الدر المختار على هامش رد المحتار، كتاب الصلٰوة ج۱ ص۳۲۲، ط.س. ج۱ ص۳۵۲). ظفير

(۱) مشكوٰة كتاب الصلوة فصل اول ص ۵۸ . ظفير

(۲) سورة النسآء ركوع ۱۱. ظفير

(۳) برحاشيه تفسيرِ جلالين ص۳۳۹ وفى عبارة ابى السعود: ولذكر الله اكبر اى الصلوة اكبر من سائر الطاعات (ايضًا ۳۳۸). ظفير

(۴) وتاركها عمداً مجانة اى تكاسلا فاسق يحبس حتى يصلى الخ (الدر المختار على هامش رد المحتار، كتاب الصلٰوة ج۱ ص۳۲۲، ط.س. ج۱ ص۳۵۲) ولا جمع بين فرضين فى وقت بعذر الخ فان جمع فسد لو قدم الفرض على وقته وحرم لوعكس اى اخره عنه الا لحاج بعرفة ومزدلفة (ايضا ج۱ ص۳۵۵، ط.س. ج۱ ص۳۸۲). ظفير =

الباب الأوّل فی المواقیت وما یتّصل بها

اول فصل: دلمانځه وختونه

دسهار اذان او جَمعه: سوال: (۱۱) دسهار دلمانځه جَمع دلمر راختلو څخه څومره مخکی کیدل پکار ده اوبله داچی دسهار اذان دجمعی څخه څومره مخکی کیدل پکار دی ؟

جواب: په شامی کی دی: قال ابوحنیفة ﷺ یؤذن للفجر بعد طلوعه (۱) یعنی دصبح صادق څخه وروسته (اذان) ویل بهتر دی، که چیری فوراً نه وی نو وروسته دی وکړی. غرض دا چی دلمانځه ټول وخت داذان هم وخت دی، کمافی الشامی: ولعل المرادبیان الاستحباب والاً فوقت الجواز جمیع الوقت ﷺ (۲) او دسهار جَمع داسفار په وخت کی کیدل پکاردی یعنی کم وخت چی ښه رڼا سی، ددې مقدار یې په درمختار کی دا لیکلی دی: چی دلمر راختلو څخه دومره مخکی لمونځ شروع کړی، چی څلویښت آیتونه په ترتیل سره ویل کیږی اوکه بیا ددوباره کولو ضرورت پیښ سي نو اِعاده وکړی. (۳) غرض داچی تقریباً نیمه گنټه مخکی دلمر ختلو څخه دی جَمعه وکړی. فقط

په قطبِ شمالی اوجنوبی کی دلمانځه داوقاتو دپابندیِ طریقه: سوال: (۱۲) دلمانځه داوقاتو پابندی په قطبِ شمالی او قطبِ جنوبی ملکونو کی څه رنګه کیدی سی، په دې ملکونوکی تر درې درې میاشتی پوری لمر نه راخیژی، علی هٰذا تردرو میاشتو پوری غروب نه کیږی، په داسی ځایونو کی لمونځ باید څه رنګه ادا کړل سی؟

---

(۵) هی فرض عین علی کل مکلف بالاجماع فرضت فی الاسراء لیلة قبل السبت سابع عشر رمضان قبل الهجرة بسنة ونصف وکانت قبله صلاتین قبل طلوع الشمس وقبل غروبها. شمنی (در المختار) انهم اختلفوا فی ای سنة کان الاسراء بعداتفاقهم علی انه کان بعد البعثة ﷺ (ردالمحتار کتاب الصلوة ج ۱ ص۳۲۵، ط.س. ج۱ ص۳۵۲) دمعراج په اړوند دیوه اوږد حدیث په آخرکی دی: ثم فرضت عليّ الصلاة خمسين صلاة كل يوم فرجعت فمررت على موسى فقال: بما أمرت ؟ قلت : أمرت بخمسين صلاة كل يوم . قال : إن أمتك لا تستطع خمسين صلاة كل يوم وإني والله قد جربت الناس قبلك وعالجت بني إسرائيل أشد المعالجة فارجع إلى ربك فسله التخفيف لأمتك فرجعت فوضع عني عشرا فرجعت إلى موسى فقال مثله فرجعت فوضع عني عشرا فرجعت إلى موسى فقال مثله فرجعت فوضع عني عشرا فرجعت إلى موسى فقال مثله فرجعت فوضع عني عشرا فأمرت بعشر صلوات كل يوم فرجعت إلى موسى فقال مثله فرجعت فأمرت بخمس صلوات كل يوم الخ متفق علیه (مشکوة باب فی المعراج فصل اول ص ۵۲۸). ظفیر

(۱) رد المحتار، باب الاذان ص ۳۵۷، ط.س. ج۱ ص۳۸۵. ظفیر

(۲) ایضًا، ط.س. ج۱ ص۳۸۵. ظفیر

(۳) والمستحب لرجل الابتداء فی الفجر باسفار والختم به هو المختار بحیث یرتل اربعین اية ثم یعیده بطهارة ولو فسد (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة ج ۱ ص۳۳۹، ط.س. ج۱ ص۳۶۶). ظفیر

جواب: دداسی ځایونو حکم هم فقهاؤ رحمهم الله لیکلی دی چی هلته دی لمونځونه په اندازې لګولو سره ادا کوی [۱] څرنګه چی په حدیث کی دی چی ددجّال دظهور په وخت کی به یوه ورځ دکال هومره وی په دې کی نبی کریم ﷺ دصحابه کرامو رضی الله عنهم دپوښتنی په جواب کی دلمونځونو په باره کی دا ارشاد وفرمایی: چی په اندازې کولو سره دی لمونځونه ادا کوی، [۲] ددې مطلب دادی چی په هریوه څلور ویشتو ګنټو کی دی پنځه لمونځونه کوی په هغه قدر وقفې سره څنګه چی به په عامو ملکونو کی دلمونځونو په مینځ کی فاصله وی، پس همدا حکم دمحققینو په نزد دهغه ځایونو دی چیری چی شپږ شپږ میاشتی یا کم او زیات ورځ او شپه وی. [۳]

دسهار دلمانځه مستحب وخت: **سوال**: (۱۳) دسهار دلمانځه په باره کی دیوځو مسلمانانو تر مینځه اختلاف راغلی دی، وختونه دلمر راختلو دحیدر آباد دکن پرپنځه بجې اوپنځه څلویښت دقیقی باندی اوغروب څلور دقیقی کم اووه بجې باندی کیږی، ددې دپاره دلته دشپې او ورځی شمار تقسیم نیم په نیمه سره کول کیږی، لیکن ددې ځای اکثره حضرات داختلاف په وجه سره په غَلَس (تیاره) کی لمونځ کوی، څلور نیمی بجې دسهار لمونځ کوی اوبعضی خلک یې په اِسفار (رڼا) کی ترپنځو بجو وروسته کوی، لهٰذا په حنفی مذهب کی چی کم کم اصح او متفق علیه وی هغه تحریر وفرمایاست !

جواب: دسهار په لمانځه کی داحنافو په نزد اِسفار مستحب دی، دمستحب ویلو څخه معلومه سوه چی په غَلَس کی صحیح دی، خوبهتر اسفار دی او داسفار معنی ده رڼا ظاهریدل اوتیاره لیری کیدل، نوکله چی لمر راختل پرپنځه بجې اوپنځه څلویښت دقیقې باندی وی نو دپنځو بجو څخه وروسته عمده وخت داسفار دی [۴]، او څلور نیمی بجې

---

[۱]. وفاقد وقتهما كبلغار فإن فيها يطلع الفجر قبل غروب الشفق في أربعينية الشتاء مكلف بهما فيقدر لهما ولا ينوي القضاء (در المختار) وقد وجد وهو ما تواطئت عليه اخبار الاسراء من فرض الله تعالى الصلوة خمسا بعد ما امر اولا بخمسين ثم استقر الامر على الخمس شرعًا عاما لاهل الافاق لا تفصيل بين قطر وقطر. ظفير

[۲]. قال الرملي في شرح المنهاج ويجري ذلك فيما لو مكثت الشمس عند قوم مدة اهـ ح، قال في إمداد الفتاح قلت وكذلك يقدر لجميع الآجال كالصوم والزكاة والحج والعدة وآجال البيع والسلم والإجارة وينظر ابتداء اليوم فيقدر كل فصل من الفصول الأربعة بحسب ما يكون كل يوم من الزيادة والنقص كذا في كتب الأئمة الشافعية ونحن نقول بمثله إذ أصل التقدير مقول به إجماعا في الصلوات الخ (رد المحتار، كتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۷، ط.س. ج۱ ص۳۶۲). ظفير

[۳]. روى انه ﷺ صلى الرعد وسلم وذكر الدجال قلنا ما لبثه فى الارض قال اربعون يوما، يوم كسنة ويوم كشهر ويوم كجمعة وسآئر ايامه كايامكم قلنا يا رسول الله فذلك اليوم الذى كسنة اتكفينا فيه صلاة يوم قال لا، اقدروا له، رواه مسلم الخ (رد المحتار، كتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۷، ط.س. ج۱ ص۳۶۲). ظفير =

لمونځ کوونکی هم لائق دملامتیا نه دی، ولی چی په غَلَس (تیاره) کی لمونځ کول هم داحادیثو څخه ثابت دی (۱) اختلاف یوازی په افضلیت اوعدمِ افضلیت کی دی. په جوازکی اختلاف نسته. والمستحب للرجل الابتداء في الفجر باسفار والختم به هو المختار، درمختار، وفي الشامي قوله: باسفار ای في وقت ظهور النور وانكشاف الظلمة الخ (۲). فقط

مقیاس الظل: **سوال**: (۱۴) په دآئره هندیه کی دمقیاسِ ظل دسر څخه ناپ کول پکار دی اوکه دبیخ څخه، او اصلي صحیح سایه په کم صورت کی وی ؟

جواب: دمقیاس سایه کمه چی په وخت دزوالِ شمس وی هغه ته سایه اصلی ویل کیږی هغه برابره خبره ده که دسر څخه دبیخ طرف ته ناپ کړل سی اوکه دبیخ څخه دسر طرفته، په هرو دوو صورتونو مآل واحد معلومیږی، باقی دآئره هندیه اوفيئ الزوال او دمثل او مثلینوکمه تشریح چی په شرحِ وقایه کی مذکورده هغه آسانه ده اوحق ته نژدی ده. فقط (۳)

دماپښین وخت اوامام صاحب: **سوال**: (۱۵) دامامِ ابوحنیفة رضی الله عنه رجوع دماپښین په وخت کی دمثلین څخه اود (الشفق هو البیاض) یعني شفق سپین والی دی، څخه اوجآئز کیدل دمسحی پر جرابو باندی کله چی مُنعَّل یا مجلَّد وی ثابته ده اوکه نه ؟

جواب: دماپښین په وخت کی دامام صاحبؒ رجوع دمثلین څخه اودماښام په وخت کی دشفق ابیض څخه ثابته نه ده اوقول دامام صاحبؒ اصح او احوط دی، کما حققه العلامة شامی (۴)، اوپه جواربو منعَّل او مجلَّد باندی دمسح جواز مسلَّم دی. (۵) فقط

---

(۴). عن رافع بن خدیجؓ قال قال رسول الله ﷺ اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر رواه الترمذی وابو داؤد والدارمی (مشکوٰة، باب تعجیل الصلوة ص۲۱). ظفیر

(۱). وعن عآئشةؓ قالت كان رسول الله ﷺ ليصلی الصبح فتنصرف النساء متلفعات بمروطهن ما یعرفن من الغلس، متفق علیه (ایضا ص۲۰). ظفیر

(۲). ردالمحتار کتاب الصلاة ج۱ ص۳۳۹، ط.س. ج۱ ص۳۶۶. ظفیر

(۳). وګوری شرح وقایة، کتاب الصلٰوة ص ۱۴۴ و۱۴۵. ظفیر

(۴). الشفق وهو الحمرة عندهما وبه قالت الثلاثة وإليه رجع الإمام كما في شروح المجمع وغيرها فكان هو المذهب (درمختار) قوله: و إليه رجع الإمام أي إلى قولهما الذي هو رواية عنه أيضا الخ ورده المحقق في الفتح بأنه لا يساعده رواية ولا دراية وقال تلميذه العلامة قاسم في تصحيح القدوري إن رجوعه لم يثبت الخ فثبت أن قول الإمام هو الأصح الخ (ردالمحتار کتاب الصلاة ج۱ ص۳۳۴ - ۳۳۵، ط.س. ج۱ ص۳۶۱). ظفیر

(۵). أو جوربيه ولو من غزل أو شعر الثخينين الخ والمنعلين ما جعل على أسفله جلدة والمجلدين (درمختار) ما ذكره المصنف من جوازه على المجلد والمنعل متفق عليه عندنا (ردالمحتار باب المسح على الخفين ج۱ ص۲۴۹، ط.س. ج۱ ص۲۶۹). ظفیر

آیا دقرآن څخه دپنځه وخته لمونځ اوقات ثابت دي؟ **سوال**: (۱۶) زید دآیتِ کریمه: اقم الصلاة طرفی النهار وزلفا من اللّیل، څخه ددرو وختو پر لمونځ: سهار، ماښام، او ماسختن باندی استدلال کوی، آیا دقرآن شریف دیو آیت شریف څخه دپنځو واړو لمونځونو وختونه صریحًا ثابتیږی ؟

جواب: په آیت کریمه: اقم الصلاة طرفی النهار وزلفا من اللّیل (۱) کی دپنځو واړو لمونځونو فرضیت مرادیدی سی، په دې ډول چی دورځی په یوه طرف کی دی دسهار لمونځ وی، اوپه دوهم طرف کی دی دزوال څخه وروسته ترلمر پریوتلو پوری درې لمونځونه ماپښین، مازدیگر، ماښام او په: زُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ، کی به ماسختن مراد سی، ځکه چی دورځی مخکنی نیمه حصه تر زواله پوری ده او دوهمه حصه دزوال څخه وروسته ترلمر پرېوتلو پوری، که چیری په دوهمه حصه کي ترغروبه پوری دوه لمونځونه ماپښین اومازدیگر کنبښوول سی نوماښام او ماختستن د: زُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ، څخه مراد کیدی سی. اودیو بل آیت څخه هم مفسرینو پنځه واړه لمونځونه مراد اخستی دی، هغه دادی: فسبحٰن الله حین تمسون وحین تصبحون وله الحمد في السمٰوٰت والارض وعشیاً وحین تظهرون. (۲) فقط

انتهایي وخت دماپښین عند الحنفية: **سوال**: (۱۷) داحنافو په نزد انتهایي وخت دماپښین ترکم وخته پوری دی تریوه مثل پوری اوکه تردوو مثلو پوری یعنی دماپښین لمونځ دکم وخت څخه قضا راوړل پکار دی او دمازدیگر لمونځ کله کول پکار دی ؟

جواب: قال في الدرالمختار: ووقت الظهر من زواله الخ إلى بلوغ الظل مثليه وعنه مثله وهو قولهما وزفر والأئمة الثلاثة قال الإمام الطحاوي وبه نأخذ وفي غرر الأذكار وهو المأخوذ به وفي البرهان وهو الأظهر الخ، وفی الشامی قوله: إلى بلوغ الظل مثليه هذا ظاهر الرواية عن الإمام نهاية وهو الصحيح بدائع ومحيط وينابيع وهو المختار غياثية واختاره الإمام المحبوبي وعول عليه النسفي وصدر الشريعة، تصحيح قاسم، واختاره أصحاب المتون وارتضاه الشارحون فقول الطحاوي وبقولهما نأخذ لا يدل على أنه المذهب الخ ثم قال: وقد قال في البحر لا يعدل عن قول الامام الى قولهما الخ (۳)، نو معلومه سوه

---

(۱). سورة هود رکوع : ۱۰ . ظفیر
(۲). سورة الروم رکوع : ۲ . فسبحان الله حين تمسون الخ قيل المراد بالتسبيح هنا الصلوات الخمس فقوله حين تمسون صلاة المغرب والعشاء وقوله وحين تصبحون صلاة الفج وقوله وعشيا صلاة العصر وقوله حين تظهرون صلاة الظهر كذا قال الضحاك وسعيد بن جبير وغيرهما الخ (فتح القدير للشوكاني ج۴ ص۳۱۱). ظفير
(۳). رد المحتار، کتاب الصلوة ج ۱ ص ۳۳۲ ، ط.س. ج۱ ص۳۵۹. ظفير

چې راجح عند الحنفية قول دامام اعظم رحمه الله دی او وخت دماپښين تر دوو مثليو پورې وي ماسوا دفيئُ الزوال څخه او وخت دمازديګر وروسته تر مثلينو دی. فقط

دطلوع اوغروب په وخت کې دلمانځه دممانعت وجه: سوال: (۱۸) دلمر ختلو اولمر لويدلو په وخت کی لمونځ کول ولی منع دی ؟

جواب: په حديث شريف کی دا راغلی دی چې په دې وختونو کی کافران دلمر عبادت کوی، ددې وجی څخه په دې وختونو کی لمونځ مه کوی. (۱) فقط

دمازديګر لمونځ په نيم لمر لويدلی وخت کی جآئز دی اوکه نه ؟ سوال: (۱۹) دمازديګر فرض دلمر لويدلو په وخت کی که چيری لمر نيم لويدلی اونيم نه وی لويدلی نو جآئز دی اوکه نه ؟

جواب: دمازديګر فرض دورځی په داسی وخت کی ادا کيږی، يعنی که چيری داسی وخت سی او دمازديګر لمونځ يې نه وی کړی نوکول يې پکار دی (۲) خو قصداً په داسی وخت کی کول نه دی پکار ځکه چې دا ګناه ده. فقط

دماپښين او دجُمعې وخت: سوال: (۲۰) دماپښين اوجُمعې اذان هميشه پاؤ باندی دولس بجې او جماعت دولس نيمی بجې جآئز دی اوکه نه ؟

جواب: په مختلفو موسمونو کی حکم مختلف کيږی، دزوال څخه مخکی دماپښين او جُمعې وخت نه وی اوپه ګرمۍ کی په ماپښين کی تاخير مستحب دی اوپه جُمعه کی هميشه تعجيل مستحب دی ليکن ددې خيال دې وساتل سی چې وخت داخل سی، ددولسو نيمو بجو څخه مخکی دی دجُمعې اذان نه کول کيږی او لمونځ دی پوره وکړل سی، او په ماپښين کی دګرمۍ په موسم کی تاخير پکار دی، (۳) اذان يوه نيمه بجه، دوې بجې، او لمونځ پاؤ بالا دوې يا دوې نيمی بجې کول پکار دی اوپه ژمی کی يوه يا يوه نيمه بجه. فقط

---

(۱). قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ولا تحينو بصلوٰتکم طلوع الشمس ولا غروبها فإنها تطلع بين قرني الشيطان، متفق عليه، وفي رواية قال ثم اقصر عن الصلاة حتی تطلع الشمس حتی ترتفع فإنها تطلع حين تطلع بين قرني شيطان وحينئذ يسجد لها الکفار (مشکوة باب اوقات النهی ص۹۴). ظفير

(۲). لا تجوز الصلوة عند طلوع الشمس ولا عند قيامها ولا عند غروبها الخ الا عصر يومه عند الغروب (هدايه فصل فی الاوقات التی تکره فيها الصلوة ص ۸۰ ج ۱). ظفير

(۳). والمستحب فی الفجر باسفار الخ وتاخير ظهر الصيف بحيث يمشی فی الظل مطلقا الخ وجمعة کظهر اصلا واستحبابا فی الزمانين لانها خلفه. (درالمختار) لکن جزم في الاشباه انه لا يسن لها الابرار الخ (ردالمحتار کتاب الصلاة ج۱ ص۳۴۰، ط.س. ج۱ ص۳۶۶). ظفير

دماښام وخت دکله څخه ترکله پوری دی ؟ سوال: (۲۱) دماښام وخت په رمضان شریف او نورو کی یوازی په لمر لویدلو سره دی اوکه تر نیم آسمانه پوری تیاره ضروری ده ؟

جواب: دماښام دلمونځ وخت همیشه یوازی په ډوبیدو دلمر سره کیږی، او دروژې ماتولو وخت په رمضان شریف او نورو کی هم یوازی په ډوبیدو دلمر سره کیږی، په در المختار کتاب الصوم کی دی: هو امساك عن المفطرات الخ فی وقت مخصوص وهو الیوم (در المختار) ای الیوم الشرعی من طلوع الفجر الی الغروب الخ والمراد بالغروب زمان غیبوبة جرم الشمس بحیث تظهر الظلمة فی جهة الشرق الخ ص ۸۰ جلد ثانی شامی. ([1]) فقط (دصفحاتو دا حواله دشامي مطبوعه (مجتبائي دهلي) نسخې ده اوپه حاشیه کي دشامي مطبوعه (مکتبه عثمانیه، دار الخلافة العثمانیة) نسخې ده. ظفیر)

دچاپه انتظار کی دی مستحب وخت ضآئع نکړل سی: سوال: (۲۲) دیو سړی دکور سره متصل یو مسجد دی، په محله کی نور هم ډیر مسلمانان دی خو هغه سړی وایی چی دمسجد امام دی جَمعه تر هغه وخته پوری نه کوی ترڅو پوری چی موږ رانسو، اکثره داسی سویدی چی دهغه په انتظار کی په مکروهه وخت کي جَمعه سویده، اوس امام په خپل مقرر وخت باندی جَمعه کوی یعنی دهر لمونځ داذان څخه نیمه گنټه یا پاؤ وخت وروسته، او لمونځ گذار نژدی شل ۲۰ دیرش ۳۰ کسان حاضریږی، اوس امام ته دوخت پابندی لازمه ده اوکه دهغه سړی انتظار ؟

جواب: په مستحب وخت کی لمونځ کول پکار دی، دشخص مذکور انتظار دی ونکړای سی لیکن که چیری دفساد اندیښنه وی نو فقهاوو دهغه دانتظار اجازت ورکړیدی. ([2])

په نیني تال کی دماسختن لمونځ: سوال: (۲۳) په نیني تال (علاقه) کی دماښام وخت دمدراس دوخت سره شل منټه بالا اووه بجې باندی کیږی، اوس په همدې اعتبار سره دماسختن وخت به څو بجې کیږی او دوترو او دپیشلمی انتهایی وخت به څه وی ؟

جواب: که چیری دلمر لویدل شل منټه بالا اووه بجې باندی کیږی، نو دماسختن وخت به پر اته بجې او څلور پنځوس منټه باندی وی، او دلمر راختل که چیری ۲۲ یا ۲۳ منټه بالا پنځه بجې وی نو صبح صادق به پر ۴۸ یا ۴۹ منټه بالا درې بجې باندی وی، هم دا

([1]). رد المحتار کتاب الصوم جلد ثانی ص ۱۱۰، ط.س. ج۱ ص۳۷۱. او همدا رد المحتار دشامی په نوم سره مشهور دی. ظفیر ، او کله نا کله په حاشیة ابن عابدین سره همدا یادیږی. الحقانی

([2]). رئیس المحلة لا ینتظر مالم یکن شریرا والوقت متسع (الدر المختار باب الاذان ص۳۷۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۰). ظفیر

ډول دپیشلمی دانتها وخت دی. فقط

وقت ظهر الی المثلین: **سوال**: (۲۴) ما قولکم فی وقت الظهر عند الحنفیة هل هو باق الی المثلین او خرج مع ظل واحد امامنا ابو حنیفة رحمه الله تعالی هل رجع الی قول الصاحبین یعنی الی المثل والی هذا القول مال وافتی مولانا الفاضل عبد الحی اللکنوی رحمه الله تعالی فی مجموع فتاواه فان رجع بای قول یعمل وما حکم قوم احناف یصلون عند ختم المثل هل یجوز فان جاز فلا کراهة او معها وماحکم اقتداءِ غیر المقلد هل یجوز، وترجمة الخطبة بغیر العربی وبجوازه افتی بعض علمآء مدراس هل هو بلا کراهة او معها ؟

الجواب: قال فی الدر المختار: ووقت الظهر من زواله الی بلوغ الظل مثلیه وعنه مثله وهو قولهما الخ وفی رد المحتار: قوله: (إلی بلوغ الظل مثلیه) هذا ظاهر الروایة عن الامام. نهایة، وهو الصحیح بدائع ومحیط وینابیع، وهو المختار غیاثیة. واختاره الامام المحبوبي وعول علیه النسفي وصدر الشریعة. تصحیح قاسم. واختاره أصحاب المتون، وارتضاه الشارحون، فقول الطحاوي: وبقولهما نأخذ، لا یدل علی أنه المذهب، وما في الفیض من أنه یفتی بقولهما في العصر والعشاء مسلم في العشاء فقط علی ما فیه، وتمامه في البحر. الخ وفیه ایضًا: قال فی البحر لا یعدل عن قول الامام الی قولهما او قول احدهما الا بضرورة من ضعف دلیل او تعامل بخلافه الخ وقد قال قُبیله: ان الادلة تکافئت ولم یظهر ضعف دلیل الامام بل ادلته قویة ایضًا الخ (۱) فالحاصل ان وقت الظهر ضعف یبقی الی المثلین والامام ابو حنیفة ﷺ ما رجع فی هٰذا الی قول الصاحبین بل یروی عنه کقولهما ولکن ظاهر الروایة خلافه فما یروٰی بعد المثل فهو اداء والاحسن الاحوط ما فی السراج عن شیخ الاسلام: ان الاحتیاط ان لا یؤخر الظهر الی المثل وان لا یصلی العصر حتٰی یبلغ المثلین لیکون مؤدیا للصلٰوتین فی وقتهما بالاجماع الخ شامی (۲).

وفی اقتداء غیر المقلد قیلٌ وقالٌ وتفصیلٌ واجمالٌ فالاحوط ترکه الا بضرورة داعیة.

وترجمة الخطبة بغیر العربی مکروهة علی التحقیق صرح به فی المسوٰی والمصفٰی شرح الموطاء وجوازه بغیر العربی مختلف فیه فالحذر کل الحذر من اختلاف فانه خلاف الاحتیاط. فقط

دمابنام په اذان او تکبیر کی فصل: **سوال**: (۲۵) دمعمول مطابق زید یوه ورځ دمابنام اذان

---

(۱). رد المحتار، کتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۲ – ۳۳۳، ط.س. ج۱ ص۳۶۹. ظفیر

(۲). رد المحتار، کتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۳، ط.س. ج۱ ص۳۶۹. ظفیر

وکی او پس داذان څخه څومره اندازه چی په حنفی مسلك کی تاخیر کول جائز دی یعنی داذان څخه وروسته دعا یې وویله او تکبیر یې ووایه او امام صاحب داذان څخه مخکی راسی داودس اونورو څخه فارغ سوی وو اودلمونځ دپاره تیار وو، دتکبیر څخه وروسته هغه لمونځ ورکی، خو دامام صاحب خادم (څوك چی دامام صاحب ډوډی پخوی اوبعضی نوردا ډول کارونه کوی) بکر او دغه شان نور لمونځ گذار څنگه چی دعامو خلگو قاعده ده چی داذان کیدلو په وخت کی راځی، اودس اونور کوی، دلمانځه څخه وروسته بکر زید ته وویل چی تاسی خلگ لږ څه هم نه درېږئ فوراً پر لمانځه ودرېږی، او تکرار یې هم شروع کی، حالانکه زید دجآئز تم کیدو څخه وروسته تکبیر ویلی وو، نو دهغوی په جواب کی زید اویو بل لمونځ کوونکی وویل چی کله په دې وخت کی وخت ډیر کم وی نو ځکه تم کیدل نه دی پکار، لیکن هغه دیو عالِم خادم دی هغه دچا خبره هم وانه وریده اوحجت یې کوی، سوال دادی چی دمابښام داذان او تکبیر ترمینځه څه تاخیر او فصل کول پکار دی اوکه تعجیل او وصل کول پکار دی، درسول الله ﷺ په زمانه کی داذان او تکبیر ترمینځ کم لمونځ دکم صحیح حدیث څخه ثابت دی اوکه نه ؟

جواب: اقول وبالله التوفيق قال فی در المختار: وقبل صلٰوة مغرب لكراهة تاخيره الا يسيراً (۱) الخ وفيه ايضاً ويجلس بينهما بقدر ما يحضر الملازمون مراعيا لوقت الندب الا فی المغرب، فيسكت قآئماً قدر ثلٰث اٰيات قصار ويكره الوصل اجماعاً الخ (۲) وفی الشامی ويستحب التحول للاقامة الى غير موضع الاذان وهو متفق عليه (۳) وايضاً فی الشامی قوله وقبل صلٰوة مغرب عليه اكثر اهل العلم منهم اصحابنا ومالك واحد الوجهين عن الشافعی لما ثبت فی الصحيحين وغيرهما مما يفيد انه ﷺ كان يواظب على صلٰوة المغرب باصحابه عقب الغروب ولقول ابن عمر رضی الله عنهما ما رأيت احداً على عهد رسول الله ﷺ يصليهما، رواه ابوداؤد وسكت عنه والمنذری فی مختصره واسناده حسن وروى محمد عن ابی حنيفة عن حماد انه سئل ابراهيم النخعی عن الصلٰوة قبل المغرب قال فنهى عنها وقال ان رسول الله ﷺ وابا بكر وعمر لم يكونوا يصلونها وقال القاضی ابوبكر بن العربی: اختلف الصحابة فی ذٰلك ولم يفعله احد بعدهم فهذا يعارض ما روی من فعل الصحابة ومن امره ﷺ بصلاتهما، لانه إذا اتفق الناس على ترك العمل بالحديث المرفوع لا يجوز العمل

(۱). الدر المختار علی هامش رد المحتار، کتاب الصلوۃ ص۳۴۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۷۲. ظفیر
(۲). و(۳). رد المحتار، باب الاذان ج۱ ص۳۲۲ ، ط.س. ج۱ ص۳۸۹. ظفیر

به لانه دليل ضعفه على ما عرف في موضعه، ولو كان ذلک مشتهرا بين الصحابة لما خفي على ابن عمر، أو يحمل ذٰلک على أنه كان قبل الامر بتعجيل المغرب، وتمامه في شرح المنية وغيرهما. الخ (۱)

دفقهې دکتابونو ددې رواياتو څخه معلومه سوه چې دماښام داذان او تکبير ترمينځه هيڅ لمونځ ندی کول پکار، اوبل معلومه سوه چې څومره وقفه داذان څخه وروسته په ماثوره دعا ويلو اوداذان دځای څخه داقامت ځای ته په راګرځيدلو سره کيږي هغه کافي ده او وصل مکروه لره رافع دی او ظاهره ده چې درې آيتونه قصار دنيم منټ څخه په کم کی هم ويل کيږي، غرض داچې په مذکوره عباراتو سره دټولو پوښتل سوو خبرو جواب واضح سو. فقط

<u>دماخستن دلمانځه وخت</u>: سوال: (۲۲) نن صبا په رمضان المبارك کی اکثره خلګ دماخستن په لمانځه کی ډيره تلواری کوی، په عام طور سره اته نيمی بجې دريل ګاډو دګړۍ (ساعت) سره چې سور شفق غآئب سوی نه وی او اذان وکی او دنهو بجو څخه مخکی لمونځ وکړی، پوښتنه ددې امورو ده: آيا دماخستن اذان دوخت څخه مخکی جآئز دی، دماښام او ماخستن داذان ترمينځ کم از کم انتهايی، سره داحتياطه، څومره فاصله ضروری کيدل پکاردی په مذهبِ حنفيه کی، په کمه ګړۍ کی چې دماښام اذان اوه نيمی بجی کيږی نو دماخستن اذان کم وخت کيدل پکار دی ؟

جواب: پر ۱۹ او ۲۰ دجون مثلاً دلمر لويدل پراووه بجې اوه ويشت منټه باندی دی او وخت دماخستن دامام ابو حنيفة رحمه الله دقول موافق په نهه بجې او څلور منټه باندی دی، نو فاصله په مينځ دغروب دلمر او غروب دشفقِ ابيض يعنی دماخستن دوخت تر شروع کيدو پوري دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد يوه ګنټه او اوه ديرش منټه دی په مذکوره تاريخونو باندی دنهو بجو څخه مخکی اذان او لمونځ موافق دقول دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه صحيح نه دی، البته دصاحبينو دقول موافق صحيح دی اودا يو قول يې دامام صاحب هم ليکلی دی، خوپه شامی کی يې ويلی دی چې احتياط دادی چې دامام صاحب رضي الله عنه په قول باندی عمل وکړل سی او دشفقِ ابيض دغروب څخه مخکی دی دماخستن لمونځ نه کول کيږي. (۲) او دماخستن اذان دهيچا په نزد هم دوخت څخه مخکی نه دی

---

(۱). رد المحتار، کتاب الصلوة، ج۱ ص۳۴۹، ط.س. ج۱ ص۳۷۷. ظفير

(۲). فثبت ان قول الامام هو الاصح ومشى عليه فی البحر (رد المحتار کتاب الصلوة جلد اول ص۳۳۵، ط.س. ج۱ ص۳۶۱). ظفير

جائز. (۱) انتهایي وخت په مذکوره تاریخونو کی تقریبًا پاؤ کم نه بجې دریل ګاډو په وخت سره دی. فقط

<u>دجُمعې او ماپښین په لمانځه کی دوخت تفاوت سته اوکه نه ؟</u> سوال: (۲۷) دجُمعې دلمانځه وخت دکله څخه شروع کیږی، دمدراس دوخت په حساب سره څو بجې دجُمعې دلمونځ وخت کیږی، او دزوال وخت نن صبا دکله څخه ترکله پوری دی، آیا دجُمعې لمونځ دزوال څخه مخکی هم کول کیږی اودماپښین اوجُمعې هم یو وخت دی اوکه څه فرق یې سته؟

جواب: دماپښین دلمونځ او دجُمعې هم یو وخت دی، دلمر دزوال څخه وروسته وخت شروع کیږی ددې څخه مخکی جُمعه صحیح نه ده لکه څنګه چی دماپښین داهم صحیح نه دی. (۲) دلته تقریبا دمدراس په وخت سره دولس نیمی بجې زوال کیږی، دهغه ځای دزوال وخت وګوری، غالبًا هلته به هم همدې ته نژدی نژدی وی، دهغه څخه وروسته جُمعه کول پکار دی. فقط

<u>دورځی تر دوه نیمو بجو پوری دجُمعې وخت وی اوکه نه ؟</u> سوال: (۲۸) دجُمعې وخت تر دوه نیموبجو پوری وی اوکه نه ؟ دپنجاب اکثره مسلمانان اعتراض کوی چی دوه نیمی بجی وخت صحیح نه دی.

جواب: دجُمعې وخت په شان دماپښین دی دلمر دزوال څخه وروسته شروع کیږی، او تریوه مثل یا دوو مثلو پوری علی اختلاف القولین باقی وی. لیکن په جمعه کی تعجیل یعنی تلواری مستحب اوبهتر دی دریلوی په وخت سره دولس نیمی بجې دلمر زوال کیږی، نوپر یوې بجې یا یوې نیمی بجې یاڅه کم او زیات دجمعې لمونځ ادا کول پکار دی، لیکن تردوه نیمو بجو پوری هم وخت باقی وی، البته قصدًا تر دومره پوری ناوخته کول خوښ او مشروع نه دی. (۳) په شامی کی دی: لکن جزم فی الاشباہ انہ لایسن لہا الابراد. الخ (۴) فقط

(۱). فیعاد اذان وقع قبله کالاقامة خلافا للثاني في الفجر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص۳۵۸، ط.س. ج۱ ص۳۸۵). ظفیر

(۲). وجمعته کظهر اصلا واستحبابا فی الزمانین لانها خلفه (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة جلد اول ص۳۴۰، ط.س. ج۱ ص۳۶۷). ظفیر

(۳). وجمعته کظهر اصلا واستحبابا فی الزمانین لانها خلفه (درمختار) أصلا أي من جهة أصل وقت الجواز وما وقع في آخره من الخلاف، قوله واستحبابا في الزمانين أي الشتاء والصيف ح، لكن جزم في الأشباه من فن الأحكام أنه لا يسن لها الإبراد الخ وقال الجمهور وليس بمشروع لأنها تقام بجمع عظيم فتأخيرها مفض إلى الحرج ولا كذلك الظهر (ردالمحتار کتاب الصلاة ج۱ ص۳۴۰، ط.س. ج۱ ص۳۶۷). ظفیر

(۴). رد المحتار کتاب الصلوة جلد اول ص۳۴۰، ط.س. ج۱ ص۳۶۷. ظفیر

دماخستن مستحب وخت: **سوال**: (۲۹) دماخستن دلمونځ بهتر وخت کم یو دی په کموکی چی عواموته تکلیف نه وی ؟

جواب: دماخستن لمونځ دیو ثلث شپه کیدلو په وخت کی مستحب دی اوکه چیری دضرورت په وجه یې څه قدر مخکی وکړی نو هیڅ حرج نسته. (۱)

په محیطه وریَځ کی دلمونځ دوختونو اندازه: **سوال**: (۳۰) دبارانونو په موسم کی اکثره په کلیو کی داسی واقعه پیښیږی چی څو څو ورځی لمر نه ښکاره کیږی اونه څه ګړۍ او ساعت وی چی په هغه سره دلمانځه دوختونو شناخت وسی، په داسی حالت کی کلی والاوو ته دماپښین او مازدیګر دوخت په معلومولو کی ډیر تکلیف وی، نو شرعًا چی کله وریَځ چاپیره وی نوڅه رنګه دی دا دواړه لمونځونه وکړل سی او مثلاً یو لمونځ ادا کړل سو او وروسته لمر ښکاره سو چی په هغه سره معلومه سوه چی کم لمونځ په فکر کولو سره ادا کړل سوی وو هغه بې وخته وو، نو دهغه راګرځول ضروری دی اوکه نه؟

جواب: په داسی حالت کی دی اندازه او تخمین وکړل سی اوهم دهغه موافق دی لمونځ وکړل سی، که چیری خطا ښکاره نه سوه نو هم هغه لمونځونه وسول اوکه چیری خطا ښکاره سوه نو اعاده کول پکار دی. (۲) فقط

دماخستن څخه مخکی بیده کیدل کله چی جَمعه فوت نسی: **سوال**: (۳۱) دماښام دلمونځ کولو څخه وروسته بیده سو او دماخستن په وخت کی ویښ سو نو دماخستن په لمانځه کی خو به څه خلل نه راځی؟

جواب: دماخستن په لمانځه کی به څه نقصان نه راځی، خو دماخستن څخه مخکی بیده کیدل ښه نه دی. (۳)

---

(۱). وتاخير عشاء الى ثلث الليل قيده في الخانية وغيرها بالشتاء اما الصيف فيندب تعجيلا (درمختار) قوله: في الخانية الخ وفي الهداية وقيل في الصيف يعجّل كيلا تقلل الجماعة (ردالمحتار كتاب الصلاة ج۱ ص۳۴۱ ، ط.س. ج۱ ص۳۶۸) ويستحب تعجيل المغرب في كل زمان كذا في الكافي وكذا تاخير العشاء الى ثلث الليل الخ وفي يوم الغيم ينور الفجر الخ ويعجل العشاء كيلا يمنع مطر اوثلج عن الجماعة هكذا في محيط السرخسي هذا في الازمنة كلها (عالمگيري مصري الباب الاول في المواقيت فصل ثاني ج۱ ص۴۸، ط. ماجدية ج۱ ص۵۱). ظفير

(۲). واذا كان اليوم يوم غيم فالمستحب فى الفجر والظهر والمغرب تاخيرها يعنى بالتاخير عدم التعجيل اول الوقت لا التاخير الشديد الذى يشك بسببه فى بقآء الوقت وذٰلك لان التعجيل فى الفجر يؤدى الى تقليل الجماعة بسبب الظلمة وربما تقع قبل الوقت وكذا فى الظهر والمغرب لا يؤمن بالتعجيل من وقوعهما قبل الزوال والغروب. قال فى المحيط المراد من تاخير المغرب قدر ما يحصل التيقن بالغروب الخ (غنية المستملى شرط خامس ص۲۳۴). ظفير

(۳). قال في البرهان ويكره النوم قبلها والحديث بعدها لنهي النبي صلى الله عليه وسلم عنهما الخ وقال =

دماښام او ماخستن داذان ترمينځ فاصله: **سوال**: (۳۲) دماښام او ماخستن داذان ترمينځ څومره فاصله پکار ده، آيا کم ځای چې دګرمی دساعت په حساب سره تقريبًا پاؤ بالا اوه بجې دماښام اذان کيږی هلته په همدغه ګړۍ سره چې اته بجې دماخستن اذان وسی نو فرض ادا کولی سی، او داخبره چې ويل کيږی چې کم ازکم يوه ګنټه اوپنځه ويشت منټه فاصله دماښام او ماخستن په اذان کی پکار ده، ددې څه حکم دی ؟

جواب: دغروب څخه وروسته دماخستن وخت عند الامام ابی حنيفة رحمة الله عليه هغه وخت کيږی چې شفقِ ابيض غآئب سی، (۱) ددې مقدار په بعضو موسمونو کی يوه ګنټه او څلور ويشت يا پنځه ويشت منټه اوپه بعضو موسمونو کی يوه ګنټه اوه ويشت منټه او په بعضو موسمونوکی تردې هم زيات وی، نو دماښام او ماخستن په مينځ کی ديوې نيمې ګنټی څخه کمه فاصله نه دې ساتل پکار، بلکه احتياطًا دپاؤکم دوو ګنټو فاصله پکار ده او دلمر دطلوع او غروب او صبح صادق اونورو په جنترۍ سره دوخت مقدار په هره زمانه کی معلوميدی سی. فقط

عند الامام دمازديګر دوخت ابتدآء: **سوال**: (۳۳) دامام اعظمؒ په نزد پر يوه مثل باندی دمازديګر دوخت کيدلو روايت معتبر اومفتٰی به دی که ددوو مثلو ؟

جواب: دحنفيه وو فتوٰی پرهرو دواړو قولو باندی ده (۲) ليکن زيات احتياط پر دوو مثلو باندی دمازديګر لمونځ کول دی اوپه همدې باندی زموږ دمشآئخو عمل دی. فقط

دسهار لمونځ دې کم وخت وکړل سی ؟ **سوال**: (۳۴) دسهار دلمانځه څخه وروسته څومره وخت باقی پکار دی ؟

جواب: دامام ابوحنيفهؒ مذهب دادی چې دسهار په لمانځه کی اسفار (۳) مستحب دی يعنی تاخير کول پکار دی په دومره اندازه چې دفرض لمونځ دادا کولو څخه وروسته دی

= الطحاوي إنما كره النوم قبلها لمن خشي عليه فوت وقتها أو فوت الجماعة فيها وأما من وكل نفسه إلى من يوقظه فيباح له النوم (ردالمحتار كتاب الصلاة تحت قول وتاخير عشاء الى ثلث الليل ج۱ ص۳۴۱، ط.س. ج۱ ص۳۶۸). ظفير

(۱). وأول وقت المغرب إذا غربت الشمس وآخر وقتها مالم يغب الشفق الخ ثم الشفق هو البياض الذي في الأفق بعد الحمرة عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى وعندهما هو الحمرة (هدايه كتاب الصلاة باب المواقيت ج۱ ص۷۷ – ۷۸). ظفير

(۲). ووقت الظهر من زواله الى بلوغ الظل مثليه وعنه مثله وهو قولهما الخ وبه يفتى (درمختار) قوله إلى بلوغ الظل مثليه هذا ظاهر الرواية عن الإمام وهوالصحيح بدائع ومحيط وينابيع وهو المختار غياثية واختاره الإمام المحبوبي الخ وفي رواية عنه أيضا أنه بالمثل يخرج وقت الظهر ولا يدخل وقت العصر إلا بالمثلين ذكرها الزيلعي وغيره الخ (ردالمحتار كتاب الصلاة ج۱ ص۳۳۲، ط.س. ج۱ ص۳۵۰). ظفير

(۳). والمستحب للرجل الابتداء فى الفجر باسفار والختم به هو المختار بحيث يرتل اربعين اية ثم يعيده =

دومره وخت تر لمر راختلو پورې باقي وي چې که چیرې دامام بې اودسه کیدل ښکاره سي یا په یوه وجه سره دلمونځ ددوباره کولو ضرورت سي نودلمر راختلو څخه مخکې دلمونځ اعاده وکړل سي، نو دلمانځه څخه وروسته په لمر راختلو کې پنځلس منټه، شل منټه پاته کیدل کافي دي. فقط

په لندن کې دلمونځ وختونه: **سوال**: (۳۵) کم ځای چې درې بجې ورځ راوزي، اونهه بجې ورځ پټه سي یعنې په لندن کې داسې وخت دی نوپه دې حساب سره داتلسو ګنټو ورځ او شپه کیږي نو دماښام لمونځ به دغروب څخه وروسته کوي اوکه ددولسو ګنټو په حساب سره وکړل سي، اودغه ډول دماخستن لمونځ په کم ډول او په کم وخت کې باید وکړل سي ؟

جواب: دماښام لمونځ دی وروسته تر غروب وکړی، همدغه ډول ټول لمونځونه دی دهغه ځای په حساب سره وکړی، فقط والله تعالٰی اعلم، کتبه بنده عزیز الرحمٰن عفی عنه

دباران په ورځو کې دلمونځ مستحب اوقات: **سوال**: (۳۶) دپنځو واړو فرضي لمونځونو مستحب وخت دباران په ورځو کې دګړۍ په حساب سره په څو بجې کیږي ؟

جواب: دلمونځ په وختونو کې شرعًا وسعت ډیر دی، په دې وجه په ګنټې او ګړۍ سره یو خاص وخت متعین کول ضروري نه دي اونه شرعًا یو خاص وخت مقرر دی چې پر دومره بجې او منټه کیدلو دی فلاني لمونځ وکړل سي، شرعًا دا حکم دی چې دومره تاخیر ونه سي چې وخت مکروه سي، اودمستحب وخت خیال دی وساتل سي مثلاً دماپښین لمونځ دیوې بجې څخه تردرو بجو پورې کم وخت چې لمونځ ګذاران راجمع سي، کولی یې سي، لیکن تاخیر بهتر دی مثلاً نن صبا دبارانونو په موسم کې چې دوه، دوه نیمې بجې یا لږ وروسته وکړل سي نو بهتره ده، او دمازدیګر لمونځ دې دپنځو بجو څخه تر شپږو بجو پورې په دې مینځ کې وکړی او دسهار لمونځ که پاؤ بالا پنځه بجې یا ترپنځه نیمو پورې وکړی نو هیڅ حرج نسته ولې چې لمر راختل نن صبا شپږو بجو ته نژدې وي نو پنځه نیمې بجې هم نیمه ګنټه باقي وي، کولی یې سي اوکه ضرورت سي نو اِعاده هم کولای سي. (۱) غرض داچې دسهار په لمونځ کې چې څومره اسفار (رڼا) وسي نو بهتره ده، قال ﷺ : اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر. رواه الترمذي. (۲)

= بطهارة لو فسد (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، کتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۹، ط.س. ج۱ ص۳۲۲). ظفیر

(۱). دا وختونه ددیوبند دي، ددې ځای څخه په لیرې لیرې مقاماتوکې کافي فرق وي دهغه لحاظ په هرحال کې ملحوظ ساتل ضروري دي. ظفیر

(۲). مشکوٰة شریف، کتاب الصلوٰة. ظفیر

که دسهار لمونځ په رمضان کی سهار وختي وکړل سی نو هیڅ بدیت نسته: **سوال**: (۳۷) که په رمضان شریف کی دسهار لمونځ دپیشلمی څخه وروسته لږوختی وکړل سی نو صحیح دی اوکه نه ؟

جواب: هیڅ حرج پکښې نسته. (۱) فقط

دافطار په وجه دماښام په لمانځه کی دتاخیر ګنجآئش سته اوکه نه ؟ **سوال**: (۳۸) دروژه مات په وخت کی چی دخلګو راوړل سوی افطاری (دروژه مات شیان) وخوری نو دماښام لمونځ کوی، یو سړی پردې باندی اعتراض کوی چی تر لمانځه وروسته یې وخوری، او داذان په کیدلو باندي یوازی په خرما سره روژه ماته کړی او فوراً پرلمانځه ودریږی، او دغه سړی ناراضه سی او دماښام لمونځ یوازی کوی، شرعًا څه حکم دی ؟

جواب: دروژه مات په وجه دماښام په لمونځ کی څه قدر وروسته والی کول جآئز دی په دې کی هیڅ حرج نسته، په اطمینان سره دی روژه ماته کړی او اوبه دی وچیښی اوڅه خوراك دی وکړی کم چی موجود وی اوبیا لمونځ کول پکار دی، نو کم سړی چی ددې معمولی تاخیر په وجه ناراضه سو او یوازی یې لمونځ شروع کی هغه خطا وکړه، هغه ته پکار دی چی په جَمعه کی دی شریکیږی اودا تاخیر کم چی په وجه دروژه مات کولو دی خلافِ شرع دې نه ګڼی، (۲) دا عین دشریعت حکم دی. فقط

دماښام او ماخستن تر مینځ دفاصلې مقدار: **سوال**: (۳۹) په مذهبِ حنفی کی دلمر لویدلو یعنی دماښام دلمونځ څخه وروسته او دماخستن په اول وخت کی څومره وقفه متفق

---

(۱). وقت صلوة الفجر الخ من اول طلوع الفجر الثانی الخ الی قبیل طلوع ذکاء (الدرالمختار علی هامش رد المحتار، کتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۱ – ۳۳۲، ط.س. ج۱ ص۳۵۹) وعن قتادة عن انس ان النبی ﷺ وزید بن ثابت تسحرا فلما فرغا من سحورهما قام نبی الله ﷺ الی الصلوة فصلی قلنا لانس ﷺ کم کان بین فراغهما من سحورهما ودخولهما فی الصلوة قال قدر مایقرء الرجل خمسین آیة، رواه البخاری (مشکوة باب تعجیل الصلوة، فصل اول ص ۲۰). محمد ظفیر الدین غفرله

(۲). کله چی په وخت کی ګنجآئش سته او دیو ضروری امر په وجه سره لږ وروسته والی کیږی نوپه دې کی قطعًا هیڅ بدیت نسته، ووقت المغرب الی غیبوبة الشفق (عالمگیری کشوری اوقات الصلوة ج۱ ص۴۹، ط. ماجدیة ج۱ ص۵۰) عن ابی ایوب قال قال رسول الله ﷺ لا یزال امتی بخیر او قال علی الفطرة مالم یؤخروا المغرب الی ان تشتبك النجوم، رواه ابوداؤد (مشکوة باب تعجیل الصلوة فصلِ ثانی ص۲۱) ددې حدیث څخه هم دا معلومه سوه چی ترڅو پوری ستوری په زیات تعداد کی پرآسمان باندی راختلی او خپاره سوی نه وی، په تاخیر کی هیڅ بدیت نسته، وفی القنیة یکره تاخیر المغرب عند محمد ؒ وفی روایة عن ابی حنیفة ؒ ولا یکره فی روایة الحسن عنه ما لم یغب الشفق والاصح انه یکره الا من عذر کالسفر والکون علی الاکل ونحوهما ؒ والذی اقتضته الاخبار کراهة التاخیر الی ظهور النجوم وما قبله مسکوت عنه فهوعلی الاباحة (غنیة المستملی ص۲۳۳). ظفیر

علیه داحنافو" په نزدکیدل ضروری دی؟ دوهمه داچی ددوبی اوژمی په ورځوکی دماښام او ماختستن تر مینځ دوخت مقدار معیّن دی اوکه کمی او زیاتی په ګنټه او منټ کی کیږی ؟

جواب: دماخستن وخت دشفق غآئب کیدلو څخه وروسته شروع کیږی، اودشفق په باره کی دامام اعظم" او صاحبینو" اختلاف دی، دصاحبینو" په نزد په شفق احمر غآئب کیدلو باندی دماخستن وخت کیږی او دامام اعظم" په نزد دشفقِ ابیض په غآئب کیدلو باندی دماخستن وخت شروع کیږی، (۱) او ظاهره ده چی دامام اعظم" په قول باندی عمل کول احوط دی، کما فی الشامی: وقوله احوط، (۲) ددې څخه وروسته دی واضحه وی چی شفقِ ابیض دلمر لویدلو څخه تقریبًا یوه نیمه ګنټه وروسته غآئبیږی اوپه دې کی ددوبی او ژمی یوځو منټه تفاوت وی، لکه دلمر دطلوع او غروب دجنترۍ څخه، په کمه کی چی وخت دمازدیګر او وخت دماخستن دامام اعظم" دمذهب مطابق درج دی، واضحه کیږی چی په اوله داګست دکال ۱۹۲۱ میلادی لمر لویدل پر اووه ۷ بجې او اولس ۱۷ منټه باندی دی، او وخت دماخستن موافق دمذهب دامام اعظم" پراته ۸ بجې او اوه څلوېښت ۴۷ منټه باندی دی.

ددې څخه واضحه سوه چی تفاوت په مابینځ دماښام او ماخستن کی یوه نیمه ګنټه دی، اوپه ۳۱ داګست دکال ۱۹۲۱ دلمر لویدل پر ۷ بجې ۴۸ منټه باندی دی او دماخستن وخت پر ۸ بجې ۱۳ منټه باندی دی، په دې وخت کی فرق په مابینځ کی دماښام او ماخستن یوه ګنټه او ۲۵ منټه دی، غرض داچی همیشه په مابینځ دغروبِ آفتاب او غروب شفق کی تقریبًا همدومره قدر فاصله وی، پس تقریبًا یوه نیمه ګنټه وروسته دلمر لویدلو څخه دماخستن وخت کیږی، او دصاحبینو دمذهب موافق دولس منټه مخکی دماخستن وخت کیږی ولی چی تفاوت په مابینځ دشفقِ احمر او ابیض کی دولس منټه دی، کما فی الشامی ذکر العلامة المرحوم الشیخ خلیل الکائلی الخ ان تفاوت بین الفجرین وکذا بین الشفقین الاحمر والابیض انما هو ثلث درج الخ (۳) او یوه یوه درجه څلور منټه ده، نو درې درجې ددولسو منټو مساوی سوې. فقط

(۱) ثم الشفق هو البیاض الذی فی الافق بعد الحمرة عند ابی حنیفة وعندهما هو الحمرة (هدایه، باب المواقیت جلد اول ص ۷۸). ظفیر

(۲) رد المحتار کتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۵، ط.س. ج۱ ص۳۶۱. ظفیر

(۳). رد المحتار کتاب الصلوة جلد اول ص۳۳۲، ط.س. ط.س. ج۱ ص۳۵۹. ظفیر

مسئله دفيئ الزوال: **سوال**: (۴۰) بعضی غيرِ مقلد وايی چی دفيئ الزوال دمسئلې هيڅ اصل نسته ولی چی په مدينه شريفه کی فيئ الزوال نه وو.

جواب: مثل يا مثلين علاوه دفيئ الزوال څخه اخيستل متفق عليه مسئله ده او تحقيق ددې دفقهی په کتابونو کی موجود دی، من شاء فليراجع اليها ([1]). فقط

دماښام دوخت مقدار او په هغه کی اوږد قرآئت: **سوال**: (۴۱) امام دماښام په وخت کی اوږد سورت چی په هغه سره خلگ تنگ سی ويلی سی اوکه نه ؟

جواب: دلمر لويدلو څخه ترشفقِ ابيضِ غاَئبيدلو پوری دامام ابو حنيفة په نزد دماښام وخت باقی وی چی دهغه مقدار تقريباً پاؤ باندی گنته يا څو منته زيات دی، ([2]) او دصاحبينو په نزد دشفقِ احمر ترغاَئبيدلو پوری دماښام وخت باقی وی کم چی دمخکنی مقدار څخه کم دی، ([3]) اوپه ماښام کی قصار مفصّل يعنی د: لَمْ يَكُنْ (سورة) څخه دقرآن شريف تر آخره پوری سورة ويل مستحب دی، نو ډير اوږد سورت په ماښام کی ويل ښه نه دی، او خلافِ سنّت دی. ([4]) فقط

دسهار دلمونځ وخت وروسته تر راختلو دصبح صادق څخه: **سوال**: (۴۲) که چيری دسهار څلور بجې وی نو دسهار دجمعی اصلی وخت به کم وی ؟

جواب: که چيری صبح صادق څلور بجې مثلاً کيږی نو دسهار لمونځ تر پنځه، پاؤ بالا پنځو بجو پوری بلکه ددې څخه هم تر وروسته پوری کولی سی، غرض داچی دلمر راختلو څخه لس پنځلس منته مخکی فارغ کيدل پکار دی. ([5]) فقط

دسهار په لمونځ کی تاخير: **سوال**: (۴۳) ددې ځای امام په لمونځونو کی تاخيرکوی چی ژر

([1]). ووقت الظهر من زواله الی بلوغ الظل مثليه سوی فيئ يكون للاشياء قبيل الزوال ويختلف باختلاف الزمان والمكان (در المختار علی هامش رد المحتار كتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۳، ط.س. ج۱ ص۳۵۹). ظفير

([2]) ثم الشفق هو البياض الذی فی الافق بعد الحمرة عند ابی حنيفة وعندهما هو الحمرة (هدايه، باب المواقيت جلد اول ص ۷۸). ظفير

([3]) ووقت المغرب منه الی غروب الشفق وهو الحمرة عندهما (در المختار علی هامش رد المحتار كتاب الصلوة جلد اول ص۳۳۴، ط.س. ج۱ ص۳۲۱). ظفير

([4]) ويسن فی الحضر لامام ومنفرد والناس عنه غافلون طوال المفصل من الحجرات الی اٰخر البروج فی الفجر والظهر ومنها الی اخر لم يكن اوساطه فی العصر والعشآء وباقية قصاره فی المغرب ای فی كل ركعة (ايضاً، فصل فی القرآئة جلد اول ص۵۰۳، ط.س. ج۱ ص۵۳۹ – ۵۴۰). ظفير

([5]). وقت صلوة الفجر الخ من طلوع الفجر الثانی الخ الی قبيل طلوع ذكاء الخ والمستحب للرجل الابتداء فی الفجر باسفار والختم به هو المختار بحيث يرتل اربعين اٰية ثم يعيده بطهارة لو فسد (الدرالمختار علی هامش رد المحتار كتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۱، ط.س. ج۱ ص۳۵۹). ظفير

والی دسهار ښکاره سی او دماپښين په لمونځ کی تر دوچنده سایی پوری تاخیر کوی او دمازدیګر لمونځ په یوه ګنټه ورځ پاته کیدلو وخت کی کوی او وایی چی په هر لمونځ کی تاخیر لازم دی حالانکه په قرآن شریف کی اول داوقاتو تاکید وارد دی.

جواب: ستاسی امام صاحب چی په کومو وختونوکی دسهار اوماپښين اومازدیګر لمونځ کوی دا دحنفیه ؤ دمذهب او دفقه دکتابونو موافق دی په سهار کی ښه اسفار کول اوپه مازدیګر کی دومره تاخیر کول چی ګنټه، پاؤ کم ګنټه ورځ پاته سی مستحب دی، او دګرمی په موسم په ماپښين کی یخوالی او تاخیر کول مستحب دی خو تردوو مثلو سایی مخکی مخکی دې وکړل سی، (١) په احادیثو کی په سهار کی دڼا کولو فضیلت او دمازدیګر تاخیر وارد سویدی اوپه ماپښين کی دیخوالی حکم وارد سویدی باقی دلمونځ داوقاتو ابتدآء او انتهآء معروف او مشهور دی. افضل دادی کم چی مذکور سو. (٢) فقط

<u>دماښام دلمونځ وخت</u>: **سوال**: (۴۴) آیا یوازي دشرق په تیاره کیدو سره ماښام کیږي اوکه دشرق دسوروالي په پرېوتلو؟ اوزموږ په ښارونو کي دشپږو کردو په فاصله دغرب لوري ته غر واقع دی نو دلته به دماښام وخت څنګه راځي؟

جواب: دماښام وخت دلمر په لویدلو پیل کیږي او فقط دلمر په لویدلو اودشرق په تیاره کیدلوسره محسوسیږي، اوپه همدې طریقه باندې دروژې ماتول او دماښام دلمانځه کول دشارع ﷺ څخه ثابت دي، اودطلوع اوغروب نقشه چي په ډیرو ښارونوکي تجربه سویده باید ستاسي سره موجوده وي، کله چي دهغې نقشې موافق غروب معلوم سي اودهغه نښې لکه دشرقي لوري تیاره محسوسه سي نودماښام دلمانځه اداکول ښایي او دسوروالي دپرېوتلو انتظار باید ونه سي. (٣) فقط

---

(١) ویستحب فی صلوة الفجر الاسفار بها بان نصلی فی وقت ظهور النور وانکشاف الظلمة والغلس الخ لقوله ﷺ اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر رواه الترمذی وقال حدیث حسن الخ ثم استحباب الاسفار عندنا عام فی الازمنة کلها الا فی صلوة الفجر یوم النحر بمزدلفة فان المستحب فیها التغلیس اجماعًا الخ ویستحب ایضا عندنا الابراد بالظهر فی الصیف لما تقدم من الحدیث اذا اشتد الخ فابردوا بالصلوة الخ وهو عام فی جمیع البلاد بجمیع الناس لاطلاق الحدیث ویستحب ایضا عندنا تاخیر العصر فی کل الازمنة الاّ یوم الغیم مالم تتغیر الشمس الخ کما ورد عنه ﷺ فی حدیث بریدة ﷺ انه ﷺ صلی العصر والشمس مرتفعة بیضآء نقیة (غنیة المستملی ص۲۳۰). ظفیر

(٢) والمستحب للرجل الابتدآء فی الفجر باسفار والختم به الخ وتاخیر ظهر الصیف مطلقًا الخ وتاخیر عصر صیفا وشتاء توسعة للنوافل ما لم یتغیر ذکاء الخ وتاخیر عشآء الی ثلث اللیل الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة جلد اول ص۳۳۹، ط.س. ج۱ ص۳۶۶). ظفیر =

دماپښين لمونځ په دوهم مثل کې: **سوال:** (۴۵) ديده او دانسته دماپښين لمونځ په دوهم مثل کې هميشه ادا کول څنګه دی ؟

جواب: فی الشامی عن الطحطاوی عن الحموی عن الخزانة الوقت المکروه فی الظهر ان یدخل فی حد الاختلاف واذا اخره حتی صار ظل کل شيء مثله فقد دخل فی حد الاختلاف. (۱) نو معلومه سوه چی په ماپښين کی دومره تاخير کول چی دا داختلاف په حد کی داخل سی يعنی سايه يو مثل سی نودا مکروهه دی. وفيه قبيله: والاحسن ما فی السراج عن شيخ الاسلام ان الاحتياط ان لا يؤخر الظهر الی المثل ؒ (۲). فقط

دماخستن په اذان او جمع کی فاصله: **سوال:** (۴۲) دماخستن داذان څخه څومره ساعت وروسته جمع کيدل پکار دی ؟

جواب: دماخستن لمونځ په تاخير سره کول مستحب دی او داذان څخه وروسته يې څه حد نسته چی څومره عاست وروسته لمونځ وکړی بلکه کله چی لمونځ ګذاران جمع سی نو جمع دی وکړل سی يا کم وخت چی دلمونځ ګذارو دسهولت په غرض سره معين کړل سی، مثلاً نن صبا اته بجې يا اته نيمی بجې يا نهه بجې يا تردې کم او زيات دی، نوبايد جمع وکړل سی. (۳) فقط

په وريځې ککړه ورځ کی دمازديګر لمونځ: **سوال:** (۱\۴۷) که چيری لمر په وريځ کی پټ وی چی دهغه سره دمثلين درك نسی لګيدی اودساعتونو اختلاف ظاهردی نو دمازديګر لمونځ په کم اندازه باندی کول پکار دی ؟

دمازديګر او ماښام تر مينځ دفاصلې اندازه: **سوال:** (۲\۴۸) دماښام او مازديګر تر مينځ مفتٰی به اتفاقی څومره فاصله ده ؟

که چيری دمازديګر لمونځ دماښام څخه دوې ګنټې مخکی وکړل سو نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۳\۴۹) که چيری دمازديګر لمونځ دماښام څخه پوره دوې ګنټې مخکی وکړل سو نو هغه لمونځ دسره دوباره ادا کول واجب دی اوکه نه ؟

جواب: (۱ تا ۳) دموسمونو په اختلاف سره اوقات هم مختـلف کيږی، اوس کله چی ورځ

---

(۳) واول وقت المغرب اذا غربت الشمس بالاجماع. (غنية المستملی ص۲۲۲). ظفير

(۱) رد المحتار کتاب الصلوٰة جلد اول ص۳۴۰، ط.س. ج۱ ص۳۵۹. ظفير

(۲) رد المحتار کتاب الصلوٰة جلد اول ص۳۳۳، ط.س. ج۱ ص۳۵۹. ظفير

(۳) ويجلس بينهما (ای بين الاذان والاقامة) بقدر ما يحضر الملازمون مراعيا لوقت الندب الاّ فی المغرب فيسکت قآئمًا قدر ثلاث ايات قصار ويکره الوصل اجماعا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۲، ط.س. ج۱ ص۳۸۹). ظفير

ډیره لویه ده نو دمانښام څخه دوې ګنټې مخکې هم دمازدیګر وخت دی یعنی چې سایه دوه مثله سی ولی چې په دې میاشت جولای کی پر **۵** بجې او **۲۳** منټه باندی سایه دوه مثله سی او غروب پر **۷** بجې **۲۸** منټه باندی یا **۲۹** باندی دی، ددې څخه معلومه سوه چې نن صبا فاصله مابین المثلین او مابین المغرب ددوو ګنټو څخه څه زیاته ده دغه ډول په مئ او جون کی هم نژدی دوې ګنټې فاصله سویده او په ګرمیانو کی چې کم اختلاف وی هغه ظاهر دی چې ددوو څلورو منټو وی، نوپه وریځ کی احتیاط کول پکار دی، او مثلاً په نقشه کی پر **۵** بجې **۲۳** منټه باندی دمثلین وخت دی، یعنی دمازدیګر وخت کیږی نوپه دې کی دی احتیاط وکړل سی چې پنځه نیمی بجې یا دهغه څخه وروسته تر پاؤ کم شپږو بجو پوری دی دمازدیګر لمونځ وکړل سی. فقط

دماخستن لمونځ په آخر دشپه کی دخوب څخه وروسته صحیح دی اوکه نه ؟ سوال: (**۵۰**) یو سړی دماخستن لمونځ دشپې پردوې یا درې بجې دخوب څخه وروسته ادا کوی، دا شرعًا څنګه دی ؟

جواب: په حدیث شریف کی دی چې نبی کریم ﷺ به دماخستن دلمانځه څخه مخکی بیده کیدل مکروه ګڼل، او دفقهی په کتابونو کی په ډاګه بیان سویدی چې دنیمی شپې څخه وروسته دماخستن لمونځ کول مکروه دی نو داطریقه ددغه سړی ښه نه ده بلکه ددې عادت کول مکروه او ممنوع دی او دبیده کیدلو څخه بهتر دادی چې دماخستن لمونځ دبیده کیدلو څخه مخکی ادا کړی. ([1]) فقط

په جمع کی دمقرر وخت څخه تاخیر: **سوال**: (**۵۱**) په مسجد کې دلمونځ وختونه مقرر دی او دګنټې په ږغیدلو سره فوراً جمع دریږی، نوکه څیری مثلاً یو مقتدی دوخت څخه لږ مخکی دسنتو نیت تړلی وی او فوراً ګنټې وږغیده نو امام دهغه انتظار وکړی او که نه؟ که یې څیری وکړې نو ممکنه ده چې بل مقتدی هم نیت وتړی، دغه ډول به قصه جاری وی په دې کی شرعًا څه حکم دی ؟

جواب: دا مسئله واضحه ده او ټولوته معلومه ده چې دلمونځونو وختونه شرعًا موسع (پراخه) دی په دې کی تنګی نسته، کم وخت چې هم لمونځ په مستحب وخت کی دننه

([1]). ویستحب تعجیل المغرب الخ وتاخیر العشاء الی ما قبل ثلث اللیل الخ والتاخیر الی نصف اللیل مباح لان دلیل الکراهة وهو تقلیل الجماعة عارضه دلیل الندب وهو قطع السمر بواحد فیثبت الاباحة الی النصف والی النصف الاخیر مکروه (هدایه، باب المواقیت جلد اول ص۷۹). وتاخیرها الی ما بعده ای بعد نصف اللیل الی طلوع الفجر مکروه اذا کان بغیر عذر الخ اما اذا کان بعذر فالضرورات تُبیح المحظورات (غنیة المستملی ص ۲۲۳، ردالمحتار ط.س. ج۱ ص۳۶۸). ظفیر

وکړی نو صحیح دی. او استحباب دتاخیر او تعجیل هم دفقهی په کتابونو کی مفصلاً مذکور دی چی دفلانی وخت په لمونځ کی تاخیر مستحب دی او په فلانی کی تلواری، ددې څخه وروسته که چیری انتظاماً یو وخت دلمونځ گذارو دسهولت او دجماعت دانتظام په غرض مقرر کړل سی نوپه دې کی شرعاً هیڅ حرج او تنگی نسته لیکن دا ضرور ده چی کم وخت په غرض دانتظام او دلمونځ گذارلو دسهولت دپاره مقرر کړل سی هغه دی داسی حتمی او لازمی ونه گڼل سی چی په هغه کی ددوو او څلورو منټو تقدیم او تاخیر دڅه ضرورت په وجه هم ونکړل سی ولی چی دا شرعی حکم نه دی چی پرفلانی منټ اوگنټی دی ضرور جَمع وسی. داخبره پرخپلو مصالحو اونظام باندی مبنی ده. (۱) لهذا که چیری داسی وسی چی یو صاحب سنت کوی اودهغه په وجه سره دوه څلور منټه تاخیر وکړل سی نوپه دې کی څه شرعی منع نه لازمیږی او دمقتدیانو رعایت شرعاً ستایل سویدی او غوره دی، لیکن داسی رعایت نه چی په هغه کی دزیاتو خلکو حرج وی، غرض داچی په داسی امورو کی کم چی شرعاً په هر ډول پراخه وی څنگه چی مصلحت اومقتضٰی دانتظام وی دهغه موافق دی عمل وکړل سی شرعاً هر طرف ته گنجآئش سته. فقط

دمازدیگر وخت او دمثل او مثلینو بحث: **سوال**: (۵۲) دلته دیو مسجد امام کم چی دحنفی کیدلو مدعی دی دمازدیگر لمونځ ددوچنده سایی څخه وروسته ادا کوی چونکه مقتدیان اکثره شوافع دی هغوی غواړی چی دمازدیگر لمونځ پریوه مثل باندی وسی نو پیش امام ته په درخواست کولو سره دهغه توجه دصاحبینو دقول طرف ته مبذول کړل سوه خو هغه یې نه منی، آیا په مذهب دامام ابوحنیفه او صاحبینو رحمۃ اللہ علیہم کی دمازدیگر وخت دکله څخه شروع کیږی او عند الحنفیة دمازدیگر لمونځ به پریوه مثل باندی صحیح کیږی اوکه نه ؟

جواب: دصاحبینو مذهب دادی چی دمازدیگر وخت پریوه مثل باندی شروع کیږی او یو روایت دامام ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ څخه هم دغه دی او ددرو نورو امامانو همدا مذهب

---

(۱). ينتظر المؤذن الناس ويقيم للضعيف المستعجل ولا ينتظر رئيس المحلة وكبيرها كذا في معراج الدراية ينبغي أن يؤذن في أول الوقت ويقيم في وسطه حتى يفرغ المتوضئ من وضوئه والمصلي من صلاته والمعتصر من قضاء حاجته كذا في التتارخانية (عالمگيري مصري الباب الثاني في الاذان فصل ثاني ج۱ ص۵۳، ط. ماجدية ج۱ ص۵۷) رئيس المحلة لا ينتظر مالم يكن شريرا او الوقت متسع (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص۳۷۲، ط.س. ج۱ ص۴۰۰) ويجلس بينهما بقدر ما يحضر الملازمون مراعيا لوقت الندب الا في المغرب فيسكت قائما ثلاث آيات (ايضا ج۱ ص۳۲۲، ط.س. ج۱ ص۳۸۹). ظفير

دی اوپه درمختار کی یې ویلی دی چی همدا ماخوذ به دی اوپه همدې باندی عمل دی او فتویٰ هم پردې ده. (۱) لیکن علامه شامی ؒ په رد المحتار کی نقل فرمایلی دی چی ظاهر الروایة دامام صاحب څخه دادی چی دمازدیگر وخت پردوه مثله باندی شروع کیږی او په بدآئع او نورو کی دی چی همدا صحیح ده، قوله: ای بلوغ الظل مثلیه الخ هذا ظاهر الروایة عن الامام نهایة وهو الصحیح بدآئع محیط وینابیع وهو المختار غیاثیة واختاره الامام المحبوبی وعول علیه النسفی وصدر الشریعة الخ (۲) غرض داچی په دې کی شك نسته چی ډیر احتیاط دامام صاحب په مذهب کی دی اوپریوه مثل باندی دمازدیگر په لمونځ کولو شبهه دوخت څخه مخکی دلمونځ کولو ده، او پر دوو مثلو باندی په اتفاق دامامانو لمونځ صحیح دی اودشوافعو په مذهب کی هم په دې کی څه کراهیت نسته لهذا شوافعو ته دحنفی امام مجبورول نه دی پکار چی پریوه مثل باندی دمازدیگر لمونځ وکړی ولی چی تردوو مثلو پوری په تاخیر کی دشوافعو په نزد هم کراهت نه راځی اوپه اتفاق لمونځ صحیح کیږی په خلاف ددې وجی چی پریوه مثل باندی وکړی چی په دې کی به دظاهر الروایة موافق عند الامام الاعظم لمونځ نه کیږی، قال فی الشامی والاحسن ما فی السراج عن شیخ الاسلام ان الاحتیاط ان لایؤخر الظهر الی المثل وان لا یصلی العصر حتی یبلغ المثلین لیکون مؤدیا للصلاتین فی وقتهما بالاجماع الخ شامی جلد اول ص ۴۴۰. (۳) فقط

دماښام دوخت ابتداء: **سوال**: (**۵۳**) دماښام اول وخت دلمر لویدلو څخه شروع کیږی اوکه کله ؟ په دې باره کی قولِ فیصل څه دی ؟

جواب: اول وخت دماښام دلمر لویدلو څخه وروسته شروع کیږی، په اتفاق سره، کما نقل فی السؤال من الدلآئل، وهذا لا خفآء فیه ولا خلاف. (۴) فقط

چی په مقتدیانوکی حنفیان او شافعیان دواړه وی نوپه وختونوکی دی دچا رعایت وکړل سی؟

---

(۱). ووقت الظهر من زواله الخ إلى بلوغ الظل مثليه وعنه مثله وهو قولهما وزفر والأئمة الثلاثة قال الإمام الطحاوي وبه نأخذ وفي غرر الأذكار وهو المأخوذ به وفي البرهان وهو الأظهر لبيان جبريل وهو نص في الباب وفي الفيض وعليه عمل الناس اليوم وبه يفتى (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصلاة ج۱ ص۳۳۲ – ۳۳۳، ط.س. ج۱ ص۳۵۹). ظفير

(۲). رد المحتار کتاب الصلوة جلد اول ص۳۳۲، ط.س. ج۱ ص۳۵۹. ظفیر

(۳). رد المحتار کتاب الصلوة جلد اول ص۳۳۳، ط.س. ج۱ ص۳۵۹. ظفیر

(۴) ووقت المغرب منه ای بعد الغروب الی غروب الشفق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۴، ط.س. ج۱ ص۳۶۱). ظفیر

سوال: (۵۴) فی بلدة كثير الاحناف ودونهم الشوافع وامام اهل المذهبين حنفی ففی هذه الصورة هل يعين وقت الظهر وانتهائه وشروع وقت العصر علی مذهب الحنفی او علی مذهب الشافعی وكيف الفتوٰی ؟

الجواب: وفی المسئلة الثانية ينبغی ان يراعی الامام فی اوقات الصلوٰة مذهب الامام الاعظم رضي الله عنه فان الاحتياط فی صلوٰة الظهر والعصر فی مذهبه رضي الله عنه كما فی رد المحتار: والاحسن ما فی السراج عن شيخ الاسلام ان الاحتياط ان لايؤخر الظهر الی المثل وان لا يصلی العصر حتی يبلغ المثلين ليكون مؤديا للصلاتين فی وقتهما بالاجماع الخ. (۱) فقط

دماښام اوماخستن دلمانځه وخت: **سوال**: (۵۵) دماښام وخت كم وخت كيږی او دماخستن وخت دكله څخه شروع كيږی ؟ يوصاحب وايی چی دماخستن وخت نهه بجې كيږی اويو صاحب وايی چی اته نيمی بجې كيږی؟ (سوال دګرمي دموسم دجوزا او سرطان سره تعلق لري).

جواب: دامام ابو حنيفة رحمه الله عليه مذهب دماخستن دوخت په باره كی دادی چی دسپين والی دغآئبيدلو څخه وروسته دماخستن وخت كيږی او سپين والی تر سرخی وروسته وی، سپين والی غآئبيدل نن صبا نهو بجو ته نژدی وی نوكله چی دماښام وخت اوه نيمی بجې وی نو دماخستن وخت به نهو بجو ته نژدی وی ولی چی نن صبا فرق دماښام او ماخستن تر مينځه تقريبًا يوه نيمه ګنټه دی، نو څوك چی وايی چی دماخستن وخت نهه بجې وی هغه صحيح ده، اته نيمی بجې نن صبا دماخستن وخت موافق دمذهبِ صحيح دامام ابوحنيفةؒ نه وی، البته صاحبينؒ څوك چی شفق سرخی ته وايی دهغوی دمذهب موافق اته نيمی بجې وخت كيږی خو دامام صاحب داصل مذهب موافق نه دی كه څه هم چی روايات دامام صاحب څخه داهم دی كم چی دصاحبينوؒ قول دی خو صحيح قول دا دی چی دامام صاحبؒ په نزد شفق سپين والی دی كم چی دسرخۍ څخه وروسته وی دهغه موافق دماخستن وخت هغه وخت كيږی چی سپين والی غآئب سی او هغه نهو بجو ته نژدی يعنی دنهو بجو څخه څلور منټه مخكی وی داصحيح ده چی دماښام او ماخستن ترمينځه بل وخت نسته خوكله چی دماښام وخت دسپين والی ترغآئبيدلو پوری وی او دماخستن وخت دسپين والی څخه وروسته وی نوبيا هيڅ اشكال پاته نسو. (۲) فقط

---

(۱) رد المحتار كتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۳، ط.س. ج۱ ص۳۵۹. ظفير

(۲). په در المختار كی دی: ووقت المغرب منه (ای الغروب) الی غروب الشفق وهو الحمرة عندهما وبه قالت =

دماپښين دلمونځ وخت عند الاحناف څه دی؟ سوال: (۵۲) دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد چې دماپښين وخت داصلي سايې څخه پرته تر دوو مثلو پوري دی ددې ثبوت په احاديثو سره وليکئ!

جواب: علامه شامی دي: أن الادلة تكافأت ولم يظهر ضعف دليل الامام، بل أدلته قوية أيضا كما يعلم من مراجعة المطولات وشرح المنية. (۱) اقول: وقد استدل شارح المنية لقول الامام بحديثين صحيحين حيث قال وله حديث ابی هريرة رض عنه عليه الصلاة والسلام اذا اشتد الحر فابردوا بالصلوة فان شدة الحر من فيح جهنم، رواه الستّة. وعن ابی ذر رض قال كنا مع النبی ﷺ فی سفر فاراد المؤذن فقال له ابرد ثم اراد ان يؤذن فقال له ابرد حتٰی ساوی الظل التلول فقال النبی ﷺ ان شدة الحر من فيح جهنم رواه البخاری، (۲) ثم بين وجه الاستدلال بالحديثين (۳) فراجعه. فقط

دمازديګر وخت: **سوال**: (۵۷) دلته څه خلګ دمازديګر لمونځ پريوه مثل باندی کوی او وايی چې اول وخت همدا دی، نور هغه خلګ دی چې په جمع کی نه شريکيږی اوناست اوسی اوډير وخت وروسته يوازي جمع کوی، په دې صورت کی صحيح خبره څه ده؟

جواب: احتياط په دې کی دی چې دمازديګر لمونځ دی ددوو مثلينو څخه مخکی نه کوی، دحضرت امام ابوحنيفه رح همدا مذهب دی او داحاديثو څخه ثابت دی لکه څنګه چې په شرح منيه کی يې احاديث صحيحه دامام صاحب دمذهب په دليل کی نقل کړی دی، په شامی کی دی: فيه أن الادلة تكافأت ولم يظهر ضعف دليل الامام، بل أدلته قوية

= الثلاثة ... ووقت العشآء والوتر منه الی الصبح (در المختار علی هامش رد المحتار ج۱ ص۳۷۳، ط.س. ج۱ ص۳۶۱) په ردالمحتار کی دی: قال فی الاختيار الشفق البياض وهو مذهب الصديق ومعاذ بن جبل وعآئشة رضي الله عنهم مخ ته ليکی: قال العلامة قاسم فثبت ان قول الامام هو الاصح (ج۱ ص۳۷۲، ط.س. ج۱ ص۳۶۱) واول وقت صلوة المغرب اذا غربت الشمس بالاجماع ايضا واٰخر وقتها مالم يغب الشفق ای الجزء الكائن قبيل غيبوبة الشفق من الزمان وهو ای المراد بالشفق هو البياض الذی فی الافق الكآئن بعد الحمرة التی تكون فی الافق عند ابی حنيفة رح وقالا ای ابويوسف رح ومحمد رح وهو قول الائمة الثلاثة رواية اسد بن عمر وعن ابی حنيفة رح ايضًا المراد بالشفق هو الحمرة نفسها لا البياض الذی بعدها الخ ولا وقت مهمل بينهما فبخروج وقت المغرب يدخل وقت العشاء اتفاقا (غنية المستملی ص۲۲۲ - ۲۲۷). ظفير

(۱) رد المحتار كتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۳، ط.س. ج۱ ص۳۵۹. ظفير

(۲) غنية المستملی ص۲۲۲. ظفير

(۳) شارح دمنيه ليکی: وجه الاستدلال بالحديث الاول ان شدة الحر فی ديارهم اذا كان ظل الفيئ وبالثانی بانه صرح بان الظل قد ساوی التلول ولا قدر يدرك لفيئ الزوال ذلك الزمان فی ديارهم فثبت انه ﷺ صلی الظهر حين صار ظلّ الشيء مثله (غنية المستملی ص۲۲۲، ردالمحتار ط.س. ج۱ ص۳۵۹). ظفير

أیضا کما یعلم من مراجعة المطولات وشرح المنیة ؒ (1) پس ښه هم هغه خلګ کوی ځوك چی پریوه مثل باندی دمازدیګر لمونځ نه کوی بلکه ددوو مثلو انتظار کوی ولی چی په عباداتو کی احتیاط لازم دی په یوه مثل باندی په لمونځ کولو کی شبهه دوخت ځخه مخکی دلمونځ کولو ده. او پردوو مثلو باندی په کولو کی بې له شبهې لمونځ په وخت کی کیږی نوپه شُبهه کی لویدل داحتیاط ځخه خلاف دی خصوصًا په امر دعباداتو کی، اوپه تاخیر دعصرکی متعدد احادیث وارد دی، پریوه مثل باندی په لمونځ کولوکی دافضلیت هم ترك کیږی، لهذا کم خلګ چی پریوه مثل باندی جمع کوی هغوی پوهول پکاردی چی ددوو مثلو ځخه وروسته دی لمونځ کوی دپاره ددې چی په دغه وخت کی ټول شریك سی. (2) فقط

دماپښین دوخت تحقیق: **سوال**: (۵۸) دجناب جواب په لفافه کی راغی خو دجواب په نه کافی کیدلو سره شك پرځای پاته سو، بنده پوښتنه کړی وه چی حدیث دابو هریرهؓ مروی موطا امامؒ: صل الظهر اذا کان ظلك مثلك بصراحة النص مثبت الی المثلین، وخت دماپښین دی اوکه نه؟ تاسی دایضاح الادله په حواله باندی موقوف کړم، لهذا په ایضاح الادلة کی می وکتل نو دحدیثِ مذکور دلالت په مفهوم دنصّ یعنی په دلالة النص سره پر بقاء دوخت دظهر بعد المثل باندی ښوول سویدی، لکه چې هغه عبارت بعینه دادی: ص ۱۳۳: صل الظهر اذا کان ظلك مثلك، چی ددې ځخه په شرط دانصاف دا خبره مفهوم کیږی چی وروسته دمثل ځخه هم دماپښین وخت باقی وی انتهٰی ۱۳۸، لیکن دماپښین دوقت تحدیدِ ترمثلین پوری دحدیث مذکور ځخه ځه نه راوزی، ص ۱۳۸، دماپښین دلمونځ وخت یقینی که ځه هم تریوه مثل پوری دی لیکن که چیری دځه ضرورت یا غفلت په وجه سره چاته دصلوۃِ مذکور په وخت یقینی کی دادا کولو اتفاق ونه سو نو هغه ته پکار دی چی په مابینځ دمثلین کی هغه ادا کړی ولی چی دا وخت که ځه هم چی محتمل وخت دی بیاهم دنورو اوقاوتو ځخه خو عمده دی ص ۱۴۲، دا مطلب نه دی چی وقتِ مذکور بالیقین دماپښین په وخت کی داخل دی اوځه رنګه چی بقآء دوخت دماپښین په مثل پوری یقینی ده بعینه همدغه ډول ترمثلین پوری دماپښین وخت باقی وی بلکه وخت دماپښین یقینی خو ترمثل پوری دی ص ۱۴۷ موږ دانه وایو چی دا مذهب صحیح

---

(1) رد المحتار کتاب الصلوۃ ج۱ ص۳۳۳. ظفیر

(2) قال المشائخ ینبغی ان لا یصلی العصر حتٰی یبلغ المثلین ولا یؤخر الظهر الی ان یبلغ المثل لیخرج من الخلاف فیهما الخ (غنیة المستملی ص ۲۲۵). ظفیر

نه دی مور خو په خپله ددې قول دصحت مُقر یو ص ۱۴۷ روایت دحضرتِ ابو هریره رضی الله عنه او ابوذر رضی الله عنه اونورو ډیرو احادیثو څخه داخبره معلومیږی چی دماپښین په وخت کی زیاتوالی سوی دی، اودغه ډول مولانا مدظله په درس دتقریر دترمذی منقوله مولوی اصغر حسین کی فرمایی چی ددې احادیثو څخه په ډاګه خبره نه راوزی په خلاف دحدیث دجبریل څخه چی هغه خبره په ډاګه کړیده لهذا عمده خبره داده چی وخت هم تر یوه مثل پوری دی، اودغه ډول مولانا تهانوی په الاقتصاد ص۷۱ کی فرمایی: حدیث ابوذر رضی الله عنه، ددې څخه ثابته سوه چی دیوه مثل څخه وروسته وخت باقی وی او حضرت ګنګوهی قدس سره په مکاتبِ رشیدیه ص ۲۲ کی دمولوی صدیق احمد صاحب په نوم تحریر فرمایی چی مثل دبنده په نزد زیات قوی دی، دحدیث دروایت څخه ثبوت دمثل کیږی ددوو مثلو ثبوت دحدیث څخه نسته، او په فتاوٰی رشیدیه جلد سوم ص ۱۳ کی الجواب ددې عبارت دبستان المحدثین او تفسیرِ مظهری څخه قطعیة او نفی دصراحت دمثلینو کیږی لهذا مذهب دمثلینو مرجوح دی او یومثل قوی او معمول به داکثرو فقهاوو دی، اودغه ډول نواب قطب الدین خان صاحب مرحوم په تنویر الحق کی دحدیث دابی هریرة رضی الله عنه لاندی فرمایی چی ددې حدیث څخه ثابت سو وخت دماپښین تر دوو مثلو پوری دلالةً انتهٰی او مولوی ارشاد حُسین صاحب رامپوری په انتصار الحق کی فرمایی اوددې کلام دحضرت ثنآء الله پانی پتی: وامّا اٰخر وقت الظهر فلم یوجد فی حدیث صحیح ولا ضعیف انه لا یبقی بعد ظل کل شيءٍ مثله ولهذا خالف ابا حنیفة رضی الله عنه فی هذه المسئلة صاحباه ووافقا الجمهور، که چیری دا معنی یې وی چی صراحةً دا لفظ په یوحدیث کی مذکور نسته چی وروسته دیوه مثل څخه وخت دماپښین باقی وی نو مسلّمه ده او مور ته مضر نه ده، ځکه چی صراحةً نه مذکور کیدل دپاره دثبوت نه ضروری دی اونه زمور مدّعا ده. او مولانا عبد الحی صاحب مرحوم په تعلیق الممجّد علی مؤطاء امام محمّد کی فرمایی: والانصاف فی هذا المقام ان احادیث المثل صریحة واخبار المثلین لیست بصریحة انتهٰی، حاصل داچی دحضراتو اکابرو دکلام څخه ثابتیږی چی حدیث مذکوره او دغه ډول هیڅ یوحدیث په باره دمثلینو کی په وخت دماپښین کی په صراحة النص سره نسته که څه هم چی په طرقِ ثلٰثه اشارة النص، دلالة النص، اقتضآء النص سره حضراتو فقهاوو استشهاد او استنباط فرمایلی دی اوهمدا توجیه ده دکلام دحضرت مولانا ګنګوهی رحمة الله علیه منقوله دمکاتب رشیدیه ص ۲۲ څخه چی ددوو مثلو ثبوت دحدیث څخه نسته او منقوله دفتاوٰی رشیدیه جلد سوم ص ۹۴ څخه قطعیت او نفی صراحةً دمثلین کیږی لهذا قول دزید چی مذکور حدیث دماپښین دوخت تر مثلینو پوري دتوقیت په هکله په

صریحي توګه دلالت کوي ستاسی په نزد او دحضرت مولانا محمود حسن صاحب مدظله العالی په نزد صحیح دی اوکه نه ؟

جواب: په فتاوٰی رشیدیه جلد دریم ص ۲۴ دسوالاتِ عشره په جوابونو (۹) کی یې دا تحقیق فرمایلی دی چی مسئله: (۹) بخاری روایت کړیدی: عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَأَرَادَ الْمُؤَذِّنُ أَنْ يُؤَذِّنَ فَقَالَ لَهُ أَبْرِدْ ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يُؤَذِّنَ فَقَالَ لَهُ أَبْرِدْ ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يُؤَذِّنَ فَقَالَ لَهُ أَبْرِدْ حَتّٰى سَاوَى الظِّلُّ التُّلُولَ، واوره چی دشَلُو سایه چی کله دشلو سره برابره سی نوتر یوه مثل ډیره زیاته سی چی دچا زړه غواړی مشاهده دی وکړی نوکه چیری وروسته تریوه مثل وخت باقی وو نو هغوی په هغه وخت کی لمونځ وکی یعنی دماپښین وخت باقی وو نو هغوی وروسته تریوه مثل لمونځ وکی، نو ددې صحیح روایت څخه طعن کول جهالت دی، دحضرت مولانا ګنګوهیؒ ددې تقریر څخه صفا ظاهره ده چی دیوه مثل څخه وروسته دماپښین وخت باقی وی نوبیا دنورو احادیثو څخه داثابته ده چی دمازدیګر دوخت تر داخلیدلو پوری دماپښین وخت وی اوپه مینځ کی هیڅ حد فاصله نسته، لهذا تر دوو مثلو پوری دماپښین وخت باقی پاته کیدل ثابت سوه، او وروسته ددې څخه چی دبخاری دحدیث څخه دماپښین وخت دیوه مثل څخه وروسته پاته کیدل معلوم سوه، دا سوال کول چی داثبوت صراحةً دی یا دلالةً یا اشارةً بی فآئدې دی ولی چی مفید دوجوب ټول دی دلالةً او اشارةً کمه خبره چی دیوه نص څخه ثابته سی نو هغه هم هغه ډول ده څنګه چی صراحةً ثابته وی، وګوری ضرب او شَتَم دوالدینو کم چی دآیت: ولا تقل لها اف، څخه دلالةً ثابت دی حرمت یې هغه ډول دی لکه څنګه چی داف ویلو دی یا تردې هم زیات، نودا تحقیق کول چی دا ثبوت صراحةً دی اوکه دلالةً الخ بې فآئدې سو، باقی ټول اقوال او عبارات او روایات ددې مسئلې سره متعلق هسی هم ستاسی دنظر په وړاندی دی بار بار دهغه دخیړلو څه حاجت دی، دومره قدر پوه سئ چی دا مسئله ثابته ده اوپر دې باندی انکار کول جهالت دی، کما قال المحقق الګنګوهی قدس سره العزیز. فقط والله تعالی اعلم

دپنځه وخته لمونځ ثبوت دقرآن څخه: **سوال**: (۵۹) دپنځه وخته لمونځ په باره کی دقرآن شریف په کم آیت کی ذکر راغلی دی ؟

جواب: (۱) قال الله تعالی: وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ فی الجلالین طرفی النهار الغداة والعشيّ: أي الصبح والظهر والعصر

وَزُلَفاً جمع زلفة. أي طائفة مِّنَ الليل أي المغرب والعشاء (١). وقال تعالى: فَسُبْحَانَ اللهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ قال فى الجلالين: حِينَ تُمْسُونَ وفيه صلاتان: المغرب والعشاء وَحِينَ تُصْبِحُونَ وفيه صلاة الصبح وَعَشِيًّا وفيه صلاة العصر وَحِينَ تُظْهِرُونَ وفيه صلاة الظهر.

(٢) وفى الحديث عن عبادة بن الصامت ﷺ قال قال رسول الله ﷺ خمس صلٰوة افترضهن الله تعالى من احسن وضوئهن وصلاهن لوقتهن واتم ركوعهن وخشوعهن كان له على الله عهد ان يغفر له الحديث رواه احمد وابوداؤد وغيرهما (٣) وعن ابى امامةؓ قال رسول الله ﷺ صلوا خمسكم وصوموا شهركم وادوا زكوٰة اموالكم واطيعوا أُملائكم تدخلوا جنة ربكم رواه احمد والترمذى (٤)

ددې آياتونو اوحديثونو څخه فرضيت دپنځو لمونځونو واضح دى او نور آيتونه او احاديث په كثرت سره پر فرضيت دپنځو لمونځونو باندى يقينى نصونه دى او ركعتونه دهر لمونځ معروف او مشهور دى هغه هم قطعى دى، دهغه انكار كفر دى. فقط

دبلغار دښار حكم: **سوال**: (٢٠) په فتاوٰى محمدى ﷺ مع شرح ديوبندى (٥) مصنفه مولانا اصغر حسين صاحب (٦) كى دا ليكلى دى چى: بلغار يو ښار دى چى هلته دماښام تر لمانځه وروسته دشفق لويدلو سره سم صبح صادق (سپيدې) را ښكاره كيږى ، دماخستن وخت ګرسره راځى نه، دا مسئله صحيح ده اوكه نه چى پردغه خلګو باندى دماخستن لمونځ نه فرض كيږى؟ جواب مفصل سره دحوالې دكتابونوتحرير وفرمايا‌ست! يو صاحب ددې مسئلې څخه په شدّ اومدّ سره انكاركوى، نوآيا پراهلِ بلغارباندى دماخستن لمونځ

---

(١) جلالين مطبوعه مجتبائى.

(٢) جلالين ص٣۴٢. ظفير

(٣) و(۴) مشكوٰة، كتاب الصلوٰة ص ۵٨. ظفير

(۵). وګوره: فتاوى محمدى ﷺ (پښتو) ص: ٢۴، پوښتنه نمبر: ١١. چاپ: مكتبه رحيميه، كاسي روډ كوئټه.

(٦) حضرت ميان صاحب، مولانا سيد اصغر حسين ديوبندىؒ دحضرت شاه محمد حسن ديوبندىؒ زوى وو، په ٨ دشوال سنة ١٢٩۴ هجرى كى مطابق د ١٢ اكتوبر سنة ١٨٧٨ ميلادى كى دماخوستن دلمانځه وروسته پيدا سويدى نوموړى ډير لوى عالِم باعمل او كامل مُكمّل ولى وو، تر ډيره وخته پورى يې دحديث درسونه په ديوبند كى وركړل او ګڼ شمېر تصنيفات يې پرې ايښى دى، دده دتصنيفاتو څخه (فتاوى محمدى ﷺ) يوډير مبارك كتاب دى، لكه دنامه څخه چى ښكاره ده په دې كتاب كى يې درسول الله ﷺ څخه پوښتل سوى مسئلې او دده ﷺ جوابونه يې سره دمختصرى شرحى جمع كړيدى، دا كتاب مخكى په اردو ژبه كى وو، بيا دې عاجزه بنده محمد احمد الحقانى غفر له كندهارى پښتوته وژباړى اوپه كوئټه كى مكتبه رحيميه چاپ كړيدى. دحضرت مولانا ميان اصغر حسين صاحبؒ دزياتو احوالو دپاره دهمدې فتاوٰى محمدى ﷺ ومقدمې ته رجوع وكړى.

فرض کیږی او که نه ؟

جواب: دا مسئله کمه چی په فتاوٰی محمدی ﷺ کی درج ده صحیح ده، دفقهی په کتابونو کی دا لیکلی ده، در المختار او شامی کم چی دفقهی معتبر کتابونه دی په هغه کی دا مسئله لیکلی ده، معلومه نه ده چی هغه سړی ولی انکار کوی، که چیری دا وجه وی چی په بلغار کی داسی نسته نو واضحه دی وی چی بلغار او دهغه متعلقات ډیر فراخه ځای دی په هغه کی بعضی داسی حصې سته چیری چی داسی حالت وی، فقهاوو هم په تجربې او مشاهدې سره لیکلی دی، ددې څخه انکار کول جهالت دی، باقی داچی په کم ځای کی دماخستن وخت نه وی هلته دماخستن لمونځ کول پکار دی اوکه نه ؟ نو دبعضو فقهاوو خو همدا مذهب دی چی هلته دماخستن لمونځ فرض نه دی ولی چی هلته دماخستن وخت نه وی، لکه څنګه چی په فتاوٰی محمدی ﷺ کی مولوی سید اصغر حسین صاحب لیکلی دی، خو محققین فقهآء لکه ابن الهمام اونور فرمایی چی که څه هم دماخستن وخت هلته نه راځی لیکن دماخستن لمونځ هلته هم فرض دی، او دلیل دهغوی دادی چی الله تعالی پرېتولو بندګانو باندی دپنځو وختونو لمونځ فرض کړیدی، هغه هرځای او هروخت کول پکاردی لکه څنګه چی په حدیث ددجال کی وارد دی چی یوه ورځ به دکال هومره وی، صحابه وو ﷺ عرض وکی چی دلمونځونو په باره کی څه حکم دی ؟ هغوی ﷺ وفرمایل چی په هغه ورځ کی دټول کال لمونځونه دپنځو وختو په اندازې لګولو سره کوئ، یعنی په هرو څلورویشتو ګنټوکی پنځه لمونځونه ادا کوی. (١)

دسهار دلمونځ وخت اوپه هغه کی دقرآئت مقدار: **سوال**: (١\٦١) یو سړی دسهار لمونځ دصبح صادق څخه تر لمر راختلو پوری چی کم وخت دی دهغه دنصف تیریدو څخه وروسته لمونځ کوی اوپه لمونځ کی لږ تر لږه څلوېښت آیتونه یا دهغه څخه زیات وایی، یو بل سړی په اوداسه کی سنت وکړی او ناست اوسی په جمع کی نه شریك کیږی کله چی دی سلام وګرځوی نو هغه بله جمع کوی آیا په دې دواړو کی دکم یوه عمل دامام اعظم ﷺ موافق دی ؟

دشافعی په اقتدآء کی په اول وخت کی دسهار لمونځ وکړی او که نه ؟ سوال: (٢\٦٢) که

(١). وفاقد وقتهما كبلغار فإن فيها يطلع الفجر قبل غروب الشفق في أربعينية الشتاء مكلف بهما فيقدر لهما ولا ينوي القضاء لفقد وقت الأداء به أفتى البرهان الكبير واختاره الكمال وتبعه ابن الشحنة في ألغازه فصححه فزعم المصنف أنه المذهب وقيل لايكلف بهما لعدم سببهما وبه جزم في الكنز والدرر والملتقى وبه أفتى البقالي ووافقه الحلواني والمرغيناني الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار مطلب في فاقد وقت العشاء كاهل بلغار ج١ ص٣٣٢، ط.س. ج١ ص٣٦٢) وانظر تحقيق المسائل في ردالمحتار. ظفير

چیری یوڅوك شافعی مذهبه داذان کیدو سره سم په اول وخت کی دجَمعی دپاره ودریږی نو حنفی ته په دغه جماعت کی شرکت لازم دی اوکه نه ؟

سوال: (۳\۲۳) کم سړی چی په نفسانی خواهش سره په آخر وخت کی بله دوهمه جمع کوی آیا هغه دلاندینی آیتونو په حکم کی راځی: ومن یعص الله ورسوله الایة، ومن لم یحکم بما انزل الله ، الایة .

سوال: (۴\۲۴) دا خبره صحیح ده اوکه نه ؟ چی په هرموسم کی دشپې په اوومه حصه شروع کیدلو باندی صبح صادق راخیژی ؟

جواب: (۱) دامام اعظمؒ په مذهب کی دسهار لمونځ په رڼا مستحب دی، په حدیث شریف کی هم ددې تاکید او حکم فرمایل سویدی: اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر (۱) ددې موافق دلمر راختلو څخه نیمه ګنټه مخکی دسهار جمع شروع کول هم کافی دی، دوهم کله چی ددې په وجه سره په لمونځ ګذارو کی بیلتون پیدا کیږی چی نور مسلمانان په اوله جمع کی دنه شریکیدو او ددوهمی جمع کولو په وجه سره دمکروهوالی مرتکب کیږی نوداسی کار ولی وکړل سی کم چی خلافِ مذهب هم وی اودهغه په وجه سره په مسلمانانو کی بیلتون پیدا کیږی او دکم جماعت لمونځ ګذار چی حنفیان وی نو څه ضروری ده چی هلته شافعی مذهبه یا غیرِ مقلد امام جوړ کړل سی څوك چی دمذهبِ حنفیه خلاف عمل کوی.

دوهمه جمع داحنافو په نزد خامخا مکروه ده لیکن که چیری اهلِ محله او لمونځ ګذار ددغه جومات حنفیان دی نو دهغوی خلاف شافعی یا غیرِ مقلد ته تلوار نه دی پکار، او دا آیتونه کم چی سآئل په سوال ۳ کی درج کړیدی دکفارو معاندینِ اسلام په باره کی دی، مسلمانان ددې آیت مصداق جوړول او ګڼل په خپله ګمراهی ده، په هر موسم کی دشپې اوومه حصه مقدار په مابین دصبح صادق او سپیدو راختلو کی ګڼل صحیح نه دی دژمی په شپوکی کله چی شپه تقریبًا دڅوارلسو ګنټو وی دصبح صادق څخه تر لمر راختلو پوری دیوې ګنټی او دوه ویشتو منټو مقدار وی، که چیری اومه حصه دشپې همیشه وی نو مقدار مذکور دوې ګنټی کیدل پکار دی حالانکه تجربه داهلِ تجربې او مشاهدهٔ عامه او قواعدِ حسابیه ددې پر خلاف باندی شاهد دی، همدغه ډول دامام اعظم ﷺ دا مذهب ګڼل چی کم مقدار دسپیدو څخه تر طلوع پوری دی دهغې پر نصف تیریدلو باندی جماعت دسهار دریدل پکار دی، غلط دی داهیڅکله دامام اعظمؒ مذهب

(۱). مشکوٰۃ، باب تعجیل الصلوۃ ص ۲۱. ظفیر

نه دی او دمحققینو حنفیه وو ؒ په نزد معتبر نه دی، په در المختار کی دی: والمستحب للرجل الابتداء في الفجر بالإسفار والختم به هو المختار بحيث يرتل أربعين آية ثم يعيده بطهارة لو فسد وقيل يؤخر جدا لأن الفساد موهوم، قوله: قيل يؤخر جدا الخ قال في البحر وهو ظاهر اطلاق الكتاب اى الكنز لكن لا يؤخرها بحيث يقع الشك في طلوع الشمس الخ. (۱) فقط

دماخستن وخت دلمر لویدلو څخه څومره ساعت وروسته وی ؟ سوال: (۲۵) دماخستن وخت دلمر لویدلو څخه څومره ساعت وروسته وی اودفقهی په کم یوه کتاب کی ددې تخمینی وخت دحنفیانو موافق لیکل سویدی چی مثلاً په یوه نیمه ګنټه کی راځی، بعضی خلګ ددومره تاخیر انکار کوی ؟

جواب: دفقهی په کتابونو کی هم دومره قدر لیکی چی دشفقِ ابیض په غآئبیدلو باندی دامام ابو حنیفة ﷺ په نزد دماخستن وخت کیږی، (۲) دکنتیی اوګړی حساب دفقهی په کتابونوکی نسته، دا خبره دمشاهدې سره تعلق لری چی دلمر لویدو څخه څومره ساعت وروسته سپینوالی دشفق غآئبیږی، نو ددې مقدار داهلِ تجربه دلیکلو موافق په دې میاشت ددسمبر اوجنوری او فروری کی تقریبًا یوه نیمه ګنټه دی، په دوبی کی بعضی اوقات دیوې نیمی ګنټی څخه څلور منټه زیات سی اوپه بعضو موسمو کی کم سی. فقط

دسهار او مازدیګر وخت څه دی او دحضرت ګنګوهی ؒ عمل څه وو ؟ سوال: (۲٦) دحضرت مولانا ؒ دلمونځ وختونه یعنی مخکی دلمر راختلو څخه سهار کم وخت او مازدیګر به یې دلمر لویدلو څخه څومره مخکی کوی؟ دګنټې اومنټ په حساب سره تحریر وفرمایاست، که چیری دسهار لمونځ په انتظار دجماعت نیمه ګنټه مخکی دطلوعِ څخه وکړل سی نو افضل دی اوکه یوازې په اول وخت کی دکولو څخه وروسته بیا په جَمع کی شریك سی، په مشارق الانوار کی حدیث دی چی دهغه مضمون دادی چی یوه زمانه به داسی راسی چی خلګ به ناوخته لمونځونه کوی، هغه وخت تاسی خلګ خپل لمونځ ادا کړی اوبیا په جماعت کی شریك سی دا هغه زمانه ده اوکه نه؟ او حدیث قابلِ عمل دی اوکه نه ؟

جواب: دلمونځ دوختونو دپاره دګنټې او منټونو مقررول نسته، دمازدیګر او سهار په لمونځ کی داحنافو ؒ په نزد تاخیر اولی دی، په مازدیګر کی دی دومره تاخیر وی چی

---

(۱) وګوری رد المحتار کتاب الصلوة ج۱ ص۳۳۹، ط.س. ج۱ ص۳۲۲ بعد مطلب طلوع الشمس من مغربها. ظ

(۲). واول وقت العشاء اذا غاب الشفق وآخر وقتها ما لم يطلع الفجر الثانی (هدایه باب المواقیت) ثم الشفق هو البياض الذی فی الافق بعد الحمرة عند ابی حنیفةؒ (ایضا، ط.س. ج۱ ص۳۲۱). ظفیر

دکراهت په حد کی داخل نسی یعنی مکروه وخت رانسی، مثلاً دغروب څخه یوه گنته یا پاؤ کم گنته مخکی چی دمازدیگر لمونځ وکړل سی نو بهتره ده. (۱) اودسهار په لمونځ کی اسفار مستحب دی، اوپه حدیث شریف کی هم داسی حکم راغلی دی، نو دسهار لمونځ چی نیمه گنته یا پاؤ کم گنته مخکی دلمر ختلو څخه وکړی نودا ښه ده او دثواب وخت دی، خصوصًا دجمع دانتظار په وجه سره چی دومره تاخیر وسی، چی نیمه گنته لمر راختلو ته باقی پاته سی نودا ډیره ښه ده. (۲) په دې کی هیڅ حرج نسته. حضرت مولانا رشیدِ احمد گنگوهی قدس سره به هم دغه ډول کول، اوکم حدیث چی دمشارق الانوار څخه تا لیکلی دی دهغه مطلب دانه دی چی اسفار دسهار او تاخیر دمازدیگر الی الوقت المستحب ممنوع دی بلکه ددې مطلب دادی چی کم وخت خلګ په لمونځ کي دومره تاخیر کوی چی مکروهه وخت راسی په هغه کی داحکم دی چی یوازي لمونځ کوه، په نیمه گنته مخکی لمونځ کولو کی داحکم نه دی، داخو عین عمل بالحدیث دی. فقط

دسهار لمونځ په تیاره کی بهتر دی اوکه په رڼا کی ؟ سوال: (۲۷) یو سړی دسهار لمونځ په تیاره کی په جمعی سره ورکی یومولوی وویل چی لمونځ په رڼا کی کول ښه وی اوپه دلیل کی یې دا آیت بیان کی: فسبحه وادبار النجوم، ددې آیت څخه څه مراد دی ؟

جواب: په حدیث شریف کی راغلی دی: اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر، الحدیث، (۳) یعنی دسهار لمونځ په رڼا کی کوی ځکه چی په دې کی ثواب زیات دی دامام ابوحنیفهؒ همدا مذهب دی چی دسهار لمونځ په رڼا کی کول غوره دی اوپه آیت: فسبحه وادبار النجوم کی دبعضو مفسرینو دا قول دی چی دسهار سنت مراد دی اوضحاك وایی چی دسهار فرض مراد دی. معالم التنزیل. فقط

دماپښین وخت په دوبی کی څه دی ؟ سوال: (۲۸) نن صبا په دوبی کی دماپښین وخت څو بجې کیږی ؟ زموږ په مسجد کی پر پاؤ بالا دوې بجې باندی دماپښین لمونځ کیږی، په جیټ هاړ کی دماپښین جَمع څو بجې کیدل پکار دی ؟

جواب: په ژمی اودوبی هریوه موسم کی دماپښین وخت دلمرځرخیدوڅخه وروسته شروع

---

(۱) وتاخیر عصر صیفا وشتاء توسعة للنوافل مالم یتغیر ذکاء بان لا تحار العین فیها فی الاصح (در المختار علی هامش رد المحتار ج۱ ص۳۴۱، ط.س. ج۱ ص۳۶۷). ظفیر

(۲). والمستحب للرجل الابتداء في الفجر باسفار والختم به هو المختار بحیث یرتل اربعین آیة ثم یعیده بطهارة لو فسد (درمختار) قوله وفي الفجر ای صلاة الفرض، باسفار ای في وقت ظهور النور وانکشاف الظلمة الخ لقوله ﷺ اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر رواه الترمذي وحسنه (ردالمحتار ج۱ ص۳۳۹، ط.س. ج۱ ص۳۵۵). ظفیر

(۳). رواه الترمذی عن رافع بن خدیج (مشکوٰة باب تعجیل الصلوة). ظفیر

کيږي او تردوو مثلو پوري باقي وي او دلمر زوال تقريبًا دولس نيمي بجې کيږي، نو دماپښين وخت ددولس نيمو بجو څخه ددرو بجو تر وروسته وي، په جيټ هاړ کی به نورهم تر ناوخته پوري وي، حاصل داچي دماپښين وخت خو ديوې بجې څخه هم څه مخکی کيږي خوپه دوبی کی حکم دناوخته لمونځ کولودی، يعنی تاخير کول په ماپښين کی مستحب وی، ددوو بجو څخه تردرو بجو پوري نن صبا دماپښين ښه وخت دی، دوه نيمی بجی يا پاؤ کم درې بجې يا تر درو بجو پوري دريلوی دوخت سره چی دماپښين لمونځ وکړی نودا ښه وخت دی په دې کی هيڅ حرج نسته او پاؤ بالا دوې بجې او دوه نيمی بجې هم ښه وخت دی، الغرض ددوو بجو څخه تر درو بجو پوري ټول ښه وخت دی کم وخت چی غواړی لمونځ کوئ دجگړی کولو هيڅ خبره نسته. فقط

دژمي په موسم کی دسهار جمع کله کيدل پکار ده ؟ **سوال**: (۶۹) دژمي په موسم کی کله چی دلمر راختل پر پاؤ بالا اوه بجې باندی کيږي نو دسهار جَمع پرڅو بجې کيدل پکار ده ؟ دگړي او گنتيی په حساب سره تحرير وفرماياست !

جواب: دسهار جمع چی دلمر راختلو څخه نيمه گنته مخکی وسی نوداښه ده او رڼا چی ښه خپره سی، مثلا نن صبا چی دلمر راختل تقريبًا پاؤ بالا اوه ۷ بجې کيږي نوکه چيری پاؤ کم اوه بجې دسهار جمع وکړل سی نو عمده خبره ده باقی وخت دسهار دصبح صادق کيدلو څخه دلمر راختلو څخه تر مخکی مخکی پوري دی ترڅو پوري چی گنجآئش دلمونځ او جَمع وی نو تاخير کول صحيح دی اوپه دې مينځ کی چی کم وخت لمونځ وکړی نوښه ده، خو دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه په مذهب کی چی رڼا يعنی ښه رڼا وسی هلته دی جمع کوی، هيڅ حد خاص په گنتې اومنټ سره مقررول ضروری نه دی. (۱) فقط

دماپښين او جُمعې وخت: **سوال**: (۷۰) دماپښين او مازديگر لمونځ دامام اعظمؒ دمذهبِ مختار په موجب کم وخت ادا کول پکار دی ؟ اول وخت کله وی او آخرت وخت کله دی ؟ او دجُمعې وخت دکم وخت څخه وی او ترکله پوري وی ؟

جواب: دماپښين وخت دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد تر دوو مثلو پوري وی او دمازديگر وخت ددوو مثلو څخه شروع کيږي، نودماپښين لمونځ ددوو مثلوڅخه مخکی

(۱). في الدر المختار والمستحب للرجل الابتداء في الفجر باسفار والختم به وهو المختار وقال في ردالمحتار اى وقت ظهور النور وانكشاف الظمه سمى به لانه يسفر اى يكشف عن الاشياء والحاصل انه حد الاسفار ان يمكنه اعادة الطهارة ولو من حدث اكبر واعادة الصلاة على الحالة الاولى قبل طلوع الشمس (ردالمحتار ج۱ ص۳۳۹، ط.س. ج۱ ص۱۲۲). ظفير

مخکی کول پکار دی او دمازدیگر لمونځ ددوو مثلو څخه وروسته، خو بهتره دا ده چې دوخت شروع کیدلو څخه وروسته زیات تاخیر مه کوی تریو مثل پوری دماپښین لمونځ وکی او ددوو مثلو څخه څه ساعت وروسته دمازدیگر لمونځ وکړی، دجُمعې وخت دماپښین په شان دلمر دزوال څخه وروسته شروع کیږی، اوتر کم وخته پوری چې دماپښین وخت دی ترهم هغه وخته پوری دجمعې وخت دی. (۱) فقط

په لاپ لینډ کی دی لمونځ او روژه څه رنګه ادا کړل سی ؟ سوال: (۷۱) جزیرهٔ لاپ لینډ چیری چی شپږ میاشتی ورځ او شپږ میاشتی شپه وی، هلته به پنځه وخته لمونځ څه رنګه کوی ؟ اوپه رمضان شریف کی به روژې څه رنګه نیسی هلته په روژو نیولو کی درمضان شریف دمیاشتی شرط سته او که نه ؟ که چیری شرط وی نو رمضان شریف څه رنګه معلومه کړل سی ؟

جواب: دلمونځونو دوختونو په اندازه کولو سره دی ادا کړل سی، مثلاً دڅلور ویشتو ګنټو شپه او ورځ وی په هغه کی دی پنځه لمونځونه په مقرَّر بیلتون سره پوره کړی اوپه روژه کی دی داقربو بلادو لحاظ وکړی او دهمدې څخه به دروژې میاشت هم معلومه سی. (۲) والله تعالی اعلم

فَصلِ ثَانِیْ اَوْقَاتِ مکْرُوْهَهْ

یعنی هغه وختونه چی دلمونځ اجازت پکښی نسته

دجمعی په ورځ په غرمه کی نفل صحیح وی اوکه نه ؟ سوال: (۷۲) ان الصلوة النافلة نصف النهار یوم الجمعة هل تباح او تکره ؟

---

(۱). وقت الظهر من زواله ای میل ذکاء عن کبد السمآء الی بلوغ الظل مثلیه الخ سواء فیئ الزوال (الی ان قال) ووقت العصر منه قبیل الغروب، قال فی رد المحتار ای بلوغ الظل مثلیه علی روایة المتن وایضًا قال والاحسن ما فی السراج عن شیخ الاسلام: ان الاحتیاط ان لا یؤخر الظهر الی المثل وان لا یصلی العصر حتی یبلغ المثلین لیکون مؤدیا للصلوتین فی وقتهما بالاجماع الخ (ص ۲۳۲ – ۲۳۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۵۹ مصری) وایضا قال الدر المختار وجمعة کظهر اصلا واستحبابا في الزمانین وقال في ردالمحتار ای الشتاء والصیف ص۳۴۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۳۶۷). ظفیر

(۲). وفاقد وقتهما کبلغار الخ مکلف بهما فیقدر لهما الخ (درالمختار) قال الرملی فی شرح المنهاج ویجری ذلك فیما لو مکثت الشمس عند قوم مدة آه قال فی امداد الفتاح قلت وکذلك یقدر لجمیع الآجال کالصوم والزکاة والحج والعدة وآجال البیع والسلم والاجارة وینظر ابتداء الیوم فیقدر کل فصل من الفصول الاربعة بحسب ما یکون کل یوم من الزیادة والنقص، کذا في کتب الائمة الشافعیة، ونحن نقول بمثله، إذ أصل التقدیر مقول به إجماعا في الصلوات کلها آه (رد المحتار کتاب الصلوة مطلب فی فاقد وقت العشآء ج۱ ص۳۳۵، ط.س. ج۱ ص۳۶۲). ظفیر

جواب: اقول وبالله التوفیق ان الاحتیاط فی عدم التنفل فی ساعة الزوال یوم الجمعة کما علیه الشروح والمتون ومذهب الامام راجح من حیث الدلیل فینبغی علیه التعویل. ([1])

دلمر داستوآء په وخت کی لمونځ صحیح نه دی: **سوال**: (۷۳) دثابت او نور نوافل دولس بجې کول صحیح دی اوکه نه ؟ اوپه اسلامی جنتری کی یې دزوال یا قضا لمونځ وخت دولس بجی او ځلورویشت منټه باندی لیکلی دی.

جواب: دزوال په وخت کی نوافل او نور هیڅ نه دی کول پکار اونه په داسی وخت کی نوافل کول پکار دی چی دزوال وخت دلمونځ په مینځ کی راسی، نو دکمی ګړی موافق چی دزوال وخت پردولس بجی او ځلورویشت منټه باندی دی دهغه مطابق که چیری دولس بجې نفل لمونځ یا قضا لمونځ په دا شان وکړی چی دزوال څخه مخکی هغه ختم کړی نودا جآئز دی خوکله چی دزوال وخت نژدی راسی هغه وخت دی هیڅ یو لمونځ نه شروع کوی دپاره ددې چی داسی ونه سی چی دلمونځ په مینځ کی دزوال وخت راسی. ([2]) فقط

دصبح صادق څخه وروسته ماسوا دسهار دسنتو څخه دهیڅ یو نفل اجازت نسته ؟ **سوال**: (۷۴) دصبح صادق څخه وروسته نوافل یا تحیة المسجد کول جآئزدی اوکه نه ؟

جواب: دصبح صادق راختلو څخه وروسته هیڅ یو نفل لمونځ ماسوا ددوو سنتو دسهار څخه جآئز نه دی، داحنافوؒ په نزد په دغه وخت کی دتحیة المسجد نفلونه هم جآئز نه دی. ([3]) فقط

([1]) لا تجوز الصلوة عند طلوع الشمس ولا عند قیامها فی الظهیرة ولا عند غروبها لحدیث عقبة بن عامرؓ الخ (هدایه باب المواقیت جلد اول ص۸۰). وکره تحریمًا الخ صلوة مطلقا الخ مع شروق الخ واستوآء الاّ یوم الجمعة علی قول الثانی المصحح المعتمد کذا فی الاشباه (در المختار) رواه الشافعی فی مسنده نهی عن الصلوة نصف النهار حتی تزول الشمس الا یوم الجمعة، قال الحافظ بن حجر فی اسناده انقطاع الخ قوله المصحح المعتمد اعتراض بان المتون والشروح علی خلافه الخ شراح الهدایة انتصروا لقول الامام واجابوا عن الحدیث المذکور الخ (رد المحتار کتاب الصلوة ج۱ ص ۲۴۳ – ۲۴۵، ط.س. ج۱ ص۳۷۰ – ۳۷۱). ظفیر

([2]) وکره تحریما وکل ما لا یجوز مکروه صلاة مطلقا ولو قضاء او واجبة او نفلا او علی جنازة وسجدة تلاوة وسهو لا شکر مع شروق الخ واستوآء (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة ج۱ ص ۳۴۳ – ۳۴۴ ، ط.س. ج۱ ص۳۷۰) لما روی مسلم وغیره من حدیث عقبة بن عامر ثلث ساعات کان رسول الله ﷺ ینهانا ان نصلی فیهن او نقبر موتانا حین تطلع الشمس بازغة حتی ترتفع وحین یقوم قآئم الظهیرة حتی تمیل الشمس وحین تضیف للغروب حتی تغرب (غنیة المستملی ص۲۳۵). ظفیر

([3]). وکذا الحکم من کراهة نفل وواجب لغیره لا فرض وواجب لعینه بعد طلوع الفجر سوی سنته لشغل الوقت به تقدیرا (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة ج۱ ص۳۴۹، ط.س. ج۱ ص۳۷۵). ظفیر

دسهار په وخت کې ماسوا دسنتو او قضا څخه هيڅ نفل نه کول کيږي: **سوال**: (۱\۱۷۵) ماته معلومه ده چې دسهار په وخت کې دمقرر لمونځ څخه علاوه يوازې قضايي لمونځ کم چې فرض او واجب يعنې وتر دی کيدلی سی ددې مزيد اطمينان غواړم ولې چې بعضې جاهلان نفل هم کوی او دفرضو څخه وروسته سنت هم کم چې يې دجماعت په وجه نسوی کولی، هغه هم کوی.

دمازديګر څخه وروسته هيڅ سنت او نفل نسته: **سوال**: (۲\۱۷۲) دمازديګر څخه وروسته هم په شان دسهار دوخت دنوافلو څخه منع ده، ددې دپاره هم هغه پوښتنې دی کمې چې دسهار دپاره کړل سويدی، که چيرې ددې حکم دهغه مطابق نه وی نو معلومات غواړم.

جواب: (۱) دصبح صادق څخه وروسته هيڅ نفلِ ماسوا دسهار دسنتو څخه يا دقضايي څخه صحيح نه دی او وروسته دسهار دلمونځ څخه دسهار سنت هم جآئز نه دی اونه نور څه نفل کول، ماسوا دقضا څخه دغه وخت صحيح دی، په درمختار کې دی: وکره الخ ولو سنة الفجر بعد صلوٰة العصر وصلوٰة عصر الخ ولا يکره قضاء فائتة ولو وترًا الخ (۱) او ددې کراهت څخه کراهتِ تحريمی مراد دی، قال فی الشامی والکراهة هٰهنا تحريمية ايضًا، کما صرح به فی الحلية ولذا قال فی الخانية والخلاصة بعدم جوازه والمراد عدم الحل لا عدم الصحة کما لا يخفٰی. (۲)

(۲). دمازديګر دلمانځه څخه وروسته هم هيڅ يو لمونځ ماسوا دقضايي لمونځ څخه جآئز نه دی. (۳) فقط

آيا دبعد الظهر وخت هم دبعد العصر والفجر په شان دی: **سوال**: (۷۷) څه رنګه چې بعد العصر اوبعد الفجر هرقسم نوافل کول ممنوع دی آيا دغه شان بعد الظهر هم هيڅ يو نفل نسی کولی، اوکه چيرې يې کولی سی نو آيا دفقهی دکم کتاب څخه دا ثابت دی اوکه نه؟ څنګه چې دمازديګر او سهار څخه وروسته وخت دی آيا دغه ډول دماپښين دوخت څخه وروسته وخت هم دی ؟

جواب: نه داسی نه ده، دمازديګر او سهار څخه وروسته نوافل صحيح نه دی. (۴)

---

(۱) الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة ص ۳۴۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۷۴. ظفير

(۲) رد المحتار کتاب الصلوة ص ۳۴۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۷۵. ظفير

(۳) واما الوقتان الاخران الخ فانه يکره فيهما التطوع فقط ولا يکره فيهما الفرض الخ وهما ای الوقتان المذکوران ما بعد طلوع الفجر الی ان ترتفع الشمس فانه يکره فی هذا الوقت النوافل کلها الا سنة الفجر الخ وما بعد صلوة العصر الی غروب الشمس لحديث ابن عباس الخ (غنية المستملی ص۲۳۷ ج۱). ظفير

(۴) وکره نفل بعد صلاة فجر وصلاة عصر الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة ج۱ ص۳۴۸ =

دسهار دسنتو څخه مخکی نوافل صحیح دي اوکه نه ؟ سوال: (۷۸) دسهار دسنتو څخه مخکی دوه رکعته نفل کول پکار دی اوکه نه ؟

جواب: دصبح صادق کیدلو څخه وروسته دفرضو څخه مخکی ماسوا ددوو سنتو دسهار څخه نور نوافل کول صحیح نه دی. (۱)

په نصف النهار کی دجُمعي په ورځ نفل صحیح نه دي: سوال: (۱۱۷۹) دجمعي په ورځ په نصف النهار کی نفل کول کیږی اوکه نه ؟

دجمعي څخه مخکی سنت دنصف النهار په وخت کی جآئز نه دي: سوال: (۱۱۸۰) دجمعي سنت په نصف النهار کی کول کیږی اوکه نه ؟

جواب: (۱) دامام ابو حنیفه رحمه الله دمذهب مطابق صحیح نه دی. او امام ابویوسف رحمه الله ورته صحیح وایی لیکن دزیات احتیاط قول دامام اعظم رضي الله عنه دی. (۲) فقط

(۲) نه یې سی کولی. (۳) فقط

دارږمی په وجه سره اودس مات نه سو لهذا دکړی لمونځ راګرځولو ضرورت نسته: سوال: (۸۱) دتهجد کولو څخه وروسته څه تسبیحات می وویل او دالتحیاتی په ډول ناست وم چی څه ارږمی را باندی راغی، چی لږ ساعت وروسته می وکتل نو دسنتو کولو وخت وو په دې یقین باندی چی اودس می مات نه دی سنت می وکړل او مسجد ته ولاړم هلته می شك پیدا سو چی هسی نه دالتحیاتی په ډول ناستی سره می اودس مات سوی وی تازه اودس می وکی بیا می دوه رکعته سنت دسره دوباره وکړل اوبیا دفرضو په جماعت کی شریك سوم، دا شرعًا جآئز دی اوکه نه ؟

جواب: کم سنت چی دی مخکی کړی وه هغه وسوه ددوباره کولو ضرورت نه وو (۴) او جآئز هم نه وه (۵) لیکن دلا علمی په وجه چی څه وسوه پر هغه څه ګرفت او عذاب نسته.

= ط.س. ج۱ ص۳۷۴ – ۳۷۵). ظفیر

(۱) وکذا الحکم عن کراهیة نفل وواجب لغیره لافرض وواجب لعینه بعد طلوع فجر سوی سنته لشغل الوقت به تقدیرا (ایضا ج۱ ص۳۴۸، ط.س. ج۱ ص۳۷۵) لما روی مسلم عن حفصة رضي الله عنها قالت کان رسول الله ﷺ اذا طلع الفجر لا یصلی الا رکعتین خفیفتین (غنیة المستملي ج۱ ص۳۳۷). ظفیر

(۲). وکره تحریما الخ صلاة مطلقا ولو قضاء او واجبة او نفلا الخ مع شروق الخ واستواء الا یوم الجمعة علی قول الثانی المصحح المعتمد کذا فی الاشباه (در المختار) لکن شراح الهدایة انتصروا لقول الامام واجابوا عن الحدیث المذکور باحادیث النهی عن الصلوة وقت الاستوآء (ردالمحتار ط.س. ج۱ ص۳۷۰ – ۳۷۱). ظفیر

(۳). وجمعة کظهر اصلا واستحبابا في الزمانین لانها خلفه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلاة ج۱ ص۳۴۰، ط.س. ج۱ ص۳۲۷). ظفیر

(۴) په دې وجه سره چی اودس نه وو مات سوی، وفی الخانیة النعاس لا ینقض الوضوء وهو قلیل نوم (رد =

دسهار او ماپښين دسنتو په قضا کې فرق: **سوال**: (۸۲) دسهار دوه رکعته سنت او دماپښين دفرضو څخه مخکې سنتِ مؤکده دي، بياڅه سبب دی چې دسهار دسنتو قضا دلمر ختلو څخه وروسته راګرځول بهتر دي اوکه چيرې يې ونکړي نوڅه مؤاخذه نسته او دماپښين مخکنی سنت که چيرې قضا سي نو دفرضو دادا کولو څخه وروسته دي ضرور ادا کړي. وجه دفرق څه ده ؟

جواب: ددې وجه داده چې دماپښين وخت باقي دی او دسهار وخت دلمر راختلو څخه وروسته باقي نه پاته کيږي. ([1]) فقط

دزوال په وخت کې اوپه غرمه کې دتلاوت او نفلو څه حکم دی ؟ **سوال**: (۸۳) عين دزوال په وخت کې يا دغرمې په وخت کې دقرآن شريف دتلاوت او نوافلو څه حکم دی ؟

جواب: عينې دزوال په وخت کې يا داسې ووايي چې داستوآء او غرمې په وخت کې تلاوت دقرآن شريف صحيح دی او نوافل دامام ابوحنيفه رحمه الله عليه په مذهب کې ناجآئز دي او امام ابو يوسف" يې جآئز فرمايي. په در المختار کې دي: وکره تحريما الخ صلاة مطلقا ولو قضاء او واجبة او نفلا الخ مع شروق الخ واستواء الاّ يوم الجمعة على قول الثانی المصحح المعتمد الخ وفی الشامی لکن شراح الهداية انتصروا لقول الامام. ([2]) او احتياط په قول دامام اعظم" کې دی او ډير فراخه قول دامام ابويوسف" دی. فقط

دلمر راختلو څخه فوراً وروسته لمونځ صحيح نه دی: **سوال**: (۸۴) دلمر دراختلو سره فوراً لمونځ کول صحيح دی اوکه نه ؟ داشراق وخت څو دنيزي هومره په لمر لوړيدلو باندی کيږي ؟

جواب: دلمر راختلو سره فوراً لمونځ صحيح نه دی بلکه په قدر ديوې يا دوو نيزو لمر لوړيدل پکار دي. ([3])

= المحتار نواقض الوضوء ج۱ ص۱۳۲) کله چې اودس باقي وو نو کم لمونځ چې يې دهغه سره وکې صحيح وسو ددوباره کولو ضرورت نسته. والله تعالی اعلم. ظفير

([5]) ځکه چې په دغه وخت کې دسهار دسنتو څخه ماسوا دهيڅ قسم نفلو اجازت نسته، وکذا الحکم من کراهة نفل الخ بعد طلوع فجر سوٰی سنته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة ج۱ ص۳۴۹، ط.س. ج۱ ص۳۷۵). ظفير

([1]) وقت صلاة الفجر الخ من اول طلوع الفجر الثاني الخ الی قبيل طلوع ذکاء ووقت الظهر من زواله الخ الی بلوغ الظل مثليه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلاة ج۱ ص۳۳۱، ط.س. ج۱ ص۳۵۹). ظفير

([2]) وګورئ: رد المحتار کتاب الصلوة جلد اول ص ۳۴۳، ط.س. ج۱ ص۳۷۰. ظفير

([3]) مکروه تحريمه الخ مع شروق الخ واستواء (درمختار) قوله مع شروق الخ ما لم ترتفع الشمس قدر رمح (رد المحتار کتاب الصلاة ج۱ ص۳۴۴، ط.س. ج۱ ص۳۷۰ – ۳۷۱). ظفير

دنيمى شپې څخه وروسته لمونځ كول مكروهِ تحريمى دى اوكه نه ؟ سوال: (۸۵) دماخستن لمونځ دنيمى شپې څخه وروسته مكروهِ تحريمى دى اوكه نه دى؟ اوكه چيرى وروسته دنيمى شپې څخه وكړل سى نو واجب الادآء دى اوكه نه ؟ مولانا عبد الحى صاحبؒ په مجموعه فتاوٰى جلد اول ص ۳۳ كى تحرير فرمايى چى مكروهِ تحريمى دى لمونځ دماخستن وروسته دنيمى شپې څخه او واجب الاداء دى اوكه چيرى اعاده ونكړى نو گناهگار به وى، او مولانا اشرف على صاحبؒ په بهشتى زيور كى ليكى چى دماخستن لمونځ وخت تر صبح صادق پورى دى او وروسته دنيمى شپې څخه مكروه دى او ثواب يې كميږى، په دې دواړو تحريرونو كى كم يو تحرير صحيح دى ؟ كه چيرى دماخستن لمونځ وروسته دنيمى شپې څخه وكړل سى نو دهغه اعاده دى وكړل سى او كه نه ؟ او كه چيرى واجب الاعاده نه وى نو دمولوى عبد الحى صاحبؒ دفتوٰى څه مطلب دى ؟

جواب: وروسته دنيمى شپې څخه دماخستن لمونځ كول مكروه دى، بعضو مكروهِ تحريمى فرمايلى دى او بعضو مكروهِ تنزيهى: فان اخرها الى ما زاد الى النصف كره لتقليل الجماعة، در المختار، قوله: كره اى تحريمًا كما ياتى تقييده فى المتن او تنزيهًا وهو الاظهر كما نذكره عن الحلية، شامى [1] ثم قال تحت قول الماتن تحريما كذا في البحر عن القنية، لكن في الحلية أن كلام الطحاوي يشير إلى أن الكراهة في تأخير العشاء تنزيهية وهو الاظهر. [2] فقط

نو كم فقهاء چې مكروهِ تحريمى فرمايى دهغوى په نزد واجب الاداء دى اوڅوك چې مكروهِ تنزيهى فرمايى دهغوى په نزد واجب الاداء نه دى ولى چى دمكروهِ تنزيهى مآل دخلافِ اولى طرف ته دى، او دعلامه شامىؒ دقول او دحليه دروايت څخه معلومه سوه چى مكَروهِ تنزيهى كيدل ښه ښكاره دى، اووجه دښه ښكاره كيدلو داده چى علت ددې مكروهوالى دجمع كميدل دى نه داچى په دغه وخت كى څه خرابى ده، نو معلومه سوه چى مولانا عبد الحىؒ صاحب كه چيرى واجب الاداء ليكلى دى نو دمكروهِ تحريمى روايت يې اخيستى دى او احتياطًا يې واجب الاداء ليكلى دى او دمولانا اشرف على صاحبؒ مطلب كه چيرى دمكروه څخه مكروهِ تنزيهى دى نو هغوى دوهم قول كم چى ښكاره دى اختيار فرمايلى دى او همدا حق ته زيات نژدى دى چى كراهتِ تنزيهى دى او داعادې ضرورت نسته. فقط

---

[1] رد المحتار كتاب الصلوة جلد اول ص ۳۴۱، ط.س. ج۱ ص۳۶۸. ظفير
[2] رد المحتار كتاب الصلوة جلد اول ص۳۴۲ ، ط.س. ج۱ ص۳۶۸. ظفير

دماپښین ابتدائی وخت څه دی او یوولس بجې به لمونځ صحیح وي اوکه نه ؟ سوال: (۸۶) دماپښین دابتداء وخت څه دی او که چیری څوك په وجه دسخت ضرورت یوولس بجې دورځی لمونځ وکړی نو آیا لمونځ به یې وسی ؟

جواب: دماپښین دوخت ابتداء دلمر دزوال څخه وروسته ده، چی نن صبا تقریباً دوولس نیمی بجې دریلوی دوخت په مطابق سره کیږی دزوال څخه مخکی په هیڅ ډول اوهیڅ ضرورت سره صحیح نه دی، نو یوولس بجې په هیڅ ډول دماپښین لمونځ ادا کیدی نه سی، (۱) دوخت څخه وروسته خو لمونځ په طریقه دقضاء صحیح کیږی خو دوخت څخه مخکی دجواز هیڅ صورت نسته. (۲) فقط

دجمع بین الصلوتین تحقیق: سوال: (۸۷) زید اهلِ حدیث ځان ته وایی او بکر حنفی دی دواړه په اتفاقی ډول په سفر کی سره یو ځای سوه، زید اهل حدیث دماپښین په وخت کی دماپښین دلمونځ سره دمازدیگر لمونځ هم یوځای کی، بکر حنفی المذهب پر هغه باندی اعتراض وکی چی اوس لا وخت دمازدیگر نه دی داخل سوی، زید جواب ورکی چی دماپښین او مازدیگر لمونځ یوځای کول په حدیثونو کی اکثر راغلی دی او حضورِ سردار عالَم ﷺ اکثره په سفرکی او پرکور باندی دماپښین او مازدیگر لمونځ د ماپښین په وخت کی یوځای کړیدی، په دې غرض سره چی زما پرامُت باندی آسانه وی، او حدیث دا پیش کوی ددې په جواز کی چی دملاحظه کولو دپاره یې ستاسی حضور ته دراستوم، دمسلم شریف حدیث ښیی او داهم وایی چی که چیری په دې یو حدیث سره تسلی نه وی نو نور حدیثونه هم پیش کولی سم کنې تاسی په عدمِ جواز کی زما خلاف یو حدیث دمعتبرو کتابونو څخه پیش کړئ چی حضور ﷺ پریوه ځای نه دی کړی اومنع کړی یې دی په لمونځو کی یوځای والی کول.

زید وایی چی په یوځای کولو کی په خپله دحضور ﷺ قول موجود دی او قول دامام صاحبؒ دی چی لمونځونه یوځای مه کوی، کله چی حدیث موجود دی بیا ولی دامام صاحبؒ په قول باندی دی دعمل وکړل سی؟ کله چی په خپله امام صاحبؒ فرمایی چی زما قول پریږدی کله چی تاسی ته حدیث زما دقول څخه خلاف ورسیږی، نوپه داسی

---

(۱) ووقت الظهر من زواله ای میل ذکاء عن کبد السمآءالی بلوغ الظل مثلیه (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار کتاب الصلوة جلد اول ص۳۳۲، ط.س. ج۱ ص۳۵۹). ظفیر

(۲) وشرط فی ادائها الخ دخول الوقت واعتقاد دخوله (در المختار) لوقت ای وقت المکتوبة واعتقاد دخوله او ما یقوم مقام الاعتقاد من غلبة الظن فلو شرع شاکا فیه لا تجزیه (رد المحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص۴۲۱، ط.س. ج۱ ص۴۵۱). ظفیر

حالت کی بکر حنفی المذهب ته څه کول پکار دی؟ اوپه عدمِ جواز کی چی کم حدیثونه وی یوڅو حدیثونه په حوالي دمعتبرو کتابونو مفصل تحریر وفرمایاست !

روایت دی دابن عباس رضی اللہ عنہما څخه هغوی ویلی دی چی لمونځ وکی رسول الله ﷺ د ماپښین او مازدیګر یوځای په مدینه کی ماسوا دخوف او ماسوا دسفر څخه، وویل ابو الزبیر چی پوښتنه وکړه ما دسعید څخه چی دڅه دپاره حضور ﷺ داسی وکړل نو وویل سعید چی پوښتنه وکړه ما دابن عباس رضی اللہ عنہ څخه څنګه چی پوښتنه وکړه تا زما څخه، نو وویل ابنِ عباس چی اراده کړی وه حضور ﷺ ددې چی حرج رانسی پرچا باندی زما په امت کی، روایت کړیدی دا حدیث مسلم.

جواب: نحمده ونصلی علٰی رسوله الکریم. امابعد: دوه لمونځونه په یو وخت کی دا ډول جمع کول چی د ماپښین لمونځ مثلاً دمازدیګر په وخت کی وکړی یاد مازدیګر لمونځ د ماپښین په وخت کی دانه په سفر کی جائز دی نه په حضر کی، درسول الله ﷺ څخه په سفر اوحضر کی دا ډول جمع کول ثابت نه دی، حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ څوك چی به دنبی کریم ﷺ په خدمت مبارك کی هر وخت حاضر اوسیدونکی وو دهغه ﷺ مسواك او بالښت به دده رضی اللہ عنہ سره وو، داودس دپاره اوبه به هم اکثره دوی رضی اللہ عنہ ورته تیارولی په همدې وجه دده رضی اللہ عنہ لقب صاحب السواك والوسادة والطهارة ایښوول سوی وو، دی رضی اللہ عنہ فرمایی قال: ما رأیت رسول الله ﷺ جمع بین الصلوٰتین الا بجمع. رواه البخاری ومسلم (1) ترجمه: ما رسول الله ﷺ هیڅکله نه دی لیدلی چی هغوی ﷺ دی یو لمونځ دخپل وخت څخه په بل وخت کی کړی وی خو دوه لمونځونه دماښام او ماخستن په مزدلفه کی، روایت کړیدی دا حدیث مسلم اوبخاری.

او دنسائی په روایت کی دی: عن عبد الله قال کان رسول الله ﷺ یصلی الصلوٰة لوقتها الا بجمع وعرفات. ترجمه: دحضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ به همیشه لمونځ په خپل وخت کی کوی خو نه په مزدلفه او عرفات کی.

اوپه خپله دحضرت ابن عباس څخه دچا روایت چی په باره دجواز بین الصلوٰتین کی پیش کړل سویدی دهغه روایت دی: من جمع بین الصلوٰتین من غیر عذر فقد اتی بابا من الکبآئر، رواه الترمذی (2)، ترجمه: چاچی جمع کړل دوه لمونځونه بغیر دعذر څخه نوده لویه ګناه وکړه، روایت یې کړیدی ترمذی، البته دده په اسناد کی ضعف دی کم چی

(1) نصب الرایة للزیلعی جلد دوهم ص ۱۹۴. ظفیر
(2) نصب الرایة للزیلعی جلد دوهم ص ۱۹۳. ظفیر

ترمذی بیان فرمایلی دی لیکن ورسره یې داهم تحریر فرمایلی دی چی عمل دجمهور أمت با وجود ددې دضعف، پر همدې حدیث باندی دی یعنی جمع بین الصلوٰتین بغیر دعذر څخه جائز نه گنی، چی په دې سره ددې پر ضعف باندی یوه پټیدی لگیدی سی، ددې څخه علاوه خاتم الحفاظ حافظ ابن حجر عسقلانی شافعیؒ په تلخیص تخریج زیلعی ص۱۳۱ کی فرمایي: واخرجه البیهقی عن عمرمرفوعًا. ترجمه: اوداروایت بیهقی دحضرت عمرؓ څخه مرفوعًا روایت کړیدی، ددومره فرمایلو څخه وروسته سکوت کوی هیڅ قدح او جرح ددې په اسناد اونورو کی نه کوی، نو ظاهره ده چی که چیری ددې په اسناد کی څه نقص وای نو ضرور به یې تحریر فرمایلی وای لکه څنگه چی یې دترمذی داسناد دنقل کولو څخه وروسته هغه ضعیف بللی دی، او دغه ډول دحضرت ابن عباسؓ څخه په اسنادِ صحیح روایت دی: عن طاؤس عن ابن عباس قال لا یفوت صلوٰة حتٰی یجیئ وقت الاخرٰی رواه الطحاوی واسناده صحیح (۱) ترجمه: روایت دی دطاؤس څخه هغه روایت کوی دابن عباسؓ څخه چی فرمایلی دی هغوی چی هیڅ یو لمونځ نه فوت کیږی ترڅو پوری چی دبل لمونځ وخت رانسی، دا روایت طحاوی کړیدی، نو معلومه سوه چی کله دبل لمونځ وخت راسی نو دحضرت ابن عباسؓ په نزد هم مخکنی لمونځ فوت سی اوظاهره ده چی که چیری جمع بین الصلوتین جآئز وبلل سی نوبیا دفوت کیدو هیڅ معنٰی نسته، او دحضرتِ ابو هریرهؓ څخه روایت دی: عن عبد الله بن موهب قال سُئل ابو هریرة ما التفریط فی الصلوٰة قال ان تؤخر حتٰی یجیئ وقت الاخرٰی، رواه الطَحاوی (۲) ترجمه: دحضرت عبد الله بن موهب څخه روایت دی چی دحضرت ابو هریره ﷺ څخه پوښتنه وکړل سوه چی تفریط فی الصلوٰة څه شی دی ؟ وې فرمایل چی لمونځ وروسته کړل سی تردی پوری چی دبل لمونځ وخت راسی. طحاوی ص ۹۸.

ددې څخه معلومه سوه چی یو لمونځ دخپل وخت څخه وروسته کول تفریط او تقصیر دی. او دحضرتِ ابو قتادة ؓ څخه مرفوعًا روایت دی: ان رسول الله ﷺ قال اما انه لیس فی النوم تفریط انما التفریط علٰی من لم یصل حتٰی یجیئ وقت الاخرٰی، رواه مسلم (۳) وغیره، ترجمه: رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی دخوب په وجه کم لمونځ اتفاقًا پاته سی په هغه کی تقصیر نسته البته تفریط او قصور پر هغه چا باندی دی چی ویښ وو او تر هغه وخت پوری یی لمونځ ونه کی څو چی دبل لمانځه وخت وربانذی راغی، مسلم او

(۱) و(۲) شرح معانی الاثار باب الجمع بین الصلوٰتین ج۱ ص۹۸. ظفیر
(۳) نصب الرایة للزیلعی جلد دوهم ص ۱۹۴. ظفیر

داسی نورو دا روایت کړی دی، او امام طحاوی فرمایی چی حضور صلی الله علیه وسلم دا خبره هغه وخت فرمایلی وه کوم وخت چی هغه صلی الله علیه وسلم په سفر کی وو، او ددی حکم مخاطب هم مسافر وو، د دی څخه په ډاګه معلومه سوه چی په دی حکم کی یواځی حضر داخل نه دی بلکی د سفر هم دغه حکم دی، ځکه نو په سفر کي هم یو لمونځ د خپل وخت څخه ایستل او د بل لمانځه په وخت کی کول تفریط او تقصیر وګڼل سو، نو ایا یو بزرګ به د حضور صلی الله علیه وسلم لوری ته په دی نسبت کولونه شرمیږی چی هغه صلی الله علیه وسلم یو لمونځ د خپل وخت څخه تیر کړی او د بل لمانځه په وخت کی یی کړی دی او د تفریط او تقصیر مرتکب سوی دی، تعالی شان النبوۃ عنہ.
ددی سره سره دقران او حدیث ډیر شهادتونه په دی باندی موجود دی چی شارع علیه السلام دهر لمانځه لپاره بیل وخت مقرر کړی دی، چی د هغه څخه دهغه وروسته کول هیڅ کله جایز نه دی قال الله تبارك وتعالی: إن الصلوة کانت علی المؤمنین کتابًا موقوتًا (۱). ترجمه: په تحقیق سره لمونځ پر مومنانو باندی فرض موقت (وخت په وخت) مقرر سوی دی، بیا که چیری یو لمونځ د خپل وخت څخه تیر سی او په بل وخت کی کول یی صحیح سی نو وخت مقررول څه معنی لری، او وګورئ بل ځای داسی ارشاد کیږی، حافظوا علی الصلوت والصلوة الوسطی (۲)، ترجمه: محافظت کوئ تاسو پرټولو لمونځونو باندی او په مینځنی لمانځه باندی، د دی ایات په تفسیر کی چی کم ځای مفسرینو ډیر څه بیان کړی دي هلته یی دمحافظت دامعنٰی بیان کړی ده چی لمونځ په خپل وخت باندی ادا کوی او د حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الوقت الاول من الصلوة رضوان الله والاخر عفوالله رواه الترمذي (۳)، ترجمه: په تحقیق سره رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی د لمانځه لومړی وخت د الله رضا ده او وروستی وخت یی دالله ﷻ بخښنه ده، دا حدیث ترمذی روایت کړی دی یعنی ځوك چی په اول مستحب وخت کی لمونځ وکړی د هغه څخه الله تعالی راضی کیږی او ځوك چی یی په اخرکی کوی نو دهغه دذمی څخه لمونځ ساقطیږی او الله تعالی د هغه دومره تاخیر معاف کوی او هغه په دی عمل نه نیسی نو له دی څخه په ډاګه څرګندیږی چی که چیری بالکل دوخت څخه ور واوړی نو بیا په شرعی قانون کی

(۱). سورة النساء رکوع ۱۵. ظفیر
(۲). سورة البقره رکوع ۳۱. ظفر
(۳). مشکوة باب تعجیل الصلوة ص ۲۱. ظفیر

معافي نسته الله به دهغه مواخذه کوی دا بیله خبره ده چی خدای تعالی په خپل رحمت سره دنورو گناهونو په ډول دا هم معاف کړی مگر جرم پرده باندی ثابت سو دا یو څو ایاتونه دقران او روایات دحدیث دی چی له هغو څخه بحمد الله په بشپړ وضاحت سره ثابته سوه چی دوه لمونځونه په دی ډول جمع کول چی د یو بل په وخت کی یی وکړی نه په حضر کی جایز دی او نه په سفرکی په دی وخت کی په همدی یوځو باندی اکتفاکولای سو ځکه چی د یو انصاف لرونکی لپاره دا هم دکفایت څخه زیات دی، او که چیری ددی څخه وروسته هم نوره اړتیا پیدا سوه نو شاید چی څه نور هم ولیکل سی، ایا ددومره صحاح او حسان روایاتو څخه وروسته هم څوك منصف شخص دی وینا کولو ته تیار کیدای سی چی پرعدم جواز دجمع بین الصلوتین باندی هیڅ دلیل نسته صرف د امام صاحب قول باقی پاته سو هغه دمسلم روایت چی د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی او سائل نقل کړی دی، نو اول خو دغه حدیث په اجماع د امت سره متروك العمل دی، لکه چی امام ترمذی په خپل علل صغری ص ۲۵۷ کی فرمایلی چی د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دا روایت په امت کی هیچا نه دی اخستی چی علت یی هم ترمذی په کتاب کی بیان کړی دی او هغه روایت کم چی په خپله له حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه دجواز جمع په خلاف باندی ذکرکړل سو د دی شاهد دی چی په خپله حضرت ابن عباس رضی الله عنهما هم جمع بین الصلوتین په ذکرسوی معنی سره روا نه گنی او هغه ځنگه جائز وگڼل سی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته تفریط او تقصیر وایی، ددی څخه معلومه سوه چی په ذکر سوی روایت کی ددوه لمونځونو دجمع کولو څخه دا مراد نه دی چی یو لمونځ د بل په وخت کی وکړای سی، بلکی مراد دادئ چی داسانتیا په غرض د یوه ضرورت لپاره صورة جمع جائز ده چی صورةً ددواړو لمونځونو په جمع کیدلو سره اسانتیا هم پیدا سی او یو لمونځ دخپل وخت څخه په اړولو سره په حکم دحدیث د تفریط او تقصیر مرتکب کیدل هم رانه سی او دا زمونږه د ځانه جوړ کړی قیاس یا اجتهاد نه دی بلکی په مسلم کی په خپله هم دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما د روایت په ځینو طریقوکی ددی تصریح موجوده ده چی دروایت مذکوره څخه یو څو کرښی وروسته ده، وهی هذه: عن جابر بن زید عن ابن عباس رضی الله عنهما قال صلیت مع النبی صلی الله علیه وسلم ثمانیًا جمیعًا وسبعًا جمیعًا قلت یا ابا الشعثاء اظنه اخر الظهر وعجل العصر واخر المغرب وعجل العشاء قال وانا اظن ذلک رواه مسلم (۱) ترجمه: د حضرت

---

(۱). مسلم شریف باب الجمع بین الصلوتین فی السفر جلد اول ص۲۴۲. ظفیر

جابر بن زید څخه روایت دی هغه روایت کوی د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه: هغوی وایی چی ما درسول الله ﷺ سره اته رکعته لمونځ پر یوځای وکړ، او اوه رکعته د (ماښام او ماخستن) پر بل ځای ما عرض وکړی چی ای ابو الشعشاء (دا د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اسم کنیه دی) زما په نظر دغه لمونځونه تاسو په یو وخت جمع کړی نه دی بلکی ماپښین به مو وروسته او مازیگر به مو مخکی کړی وی، همدا ډول ماښام به مو وروسته او ماخستن به مو مخکی کړی وی، حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وویل چی زما هم دا نظر دی، دی روایت ښکاره بیان وکړی چی د ابن عباس رضی الله عنهما په روایت کی دجمع بین الصلوتین څخه ددی څخه بغیر هیڅ مراد نه دی چی یو لمونځ د هغه په اخر وخت کی وکړی او بل لمونځ د هغه په اول وخت کی په همدی ډول ادا کړای سول چی صورة سره جمع سوه.

هم داوجه ده چی حافظ الدنیا حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله سره له دی چی شافعی المذهب دی او جمع بین الصلوتین جایز گڼی په دی روایت کی دا منی چی په دی کی دجمعی څخه مراد هغه جمعه ده چی حنفیان وایی یعنی جمع صورة ده لکه څنگه چی پورته ذکر وسو، همدا ډول نور په هرڅومره روایاتو کی چی جمع کول ثابتیږی په ټولو کی همدا جمع صوری مراد ده تر څو له هغو حدیثو سره چی مخکی ذکر سوه او له هغو څخه عدم جواز معلومیږی دهغو سره یی خلاف رانه سی او د هغو پریښودل رانه سی، ددي وجه قاضی شوکاني چي داهل ظاهر څخه دی په ظاهر حدیث باندي تلل کوي او دکم امام مقلدنه دی اودچا دکتابونو تقلید چي اکثره دعدمِ تقلید مدعیان یي هم کوي او ددوی دتحریر او تقریر مغز هم دده کتابونه وي، لومړی په نیل الاوطار کي جمع بین الصلوتین جایز گڼي مگر کله چي دروایاتو دتتابع او په هغو کي دغور او تامل نوبت راسي نو ددي څخه رجوع کوي.

په همدغه ډول ددي څخه وروسته هغه یوه رساله تشنیف السمع في ابطال ادلة الجمع تصنیف کړي ده چي په هغي کي دجمع بین الصلوتین ادله باطل کړی دی، او دعدم جواز حقیقت یي ثابت کړی دی، په دي وخت کي په همدومره وړاندیز باندي اکتفا کوله کیږي، هیله ده چي دانصاف او تامل په نظر سره یي ملاحظه کړی، او دخپل نظر څخه به رجوع وکړی او که چیري په دي سره هم تشفي ونه سوه نو ان شاء الله ددي څخه وروسته به ستاسو خدمت ته تر دي زیات دلایل وړاندي کړل سي په دي شرط چي ددي څخه مقصود دحق تحقیق وگڼل سي نه مجادله. والله یهدي من یشاء الی سواء السبیل. فقط.

ایا دماپښین او مازدیگر لمونځ په یوه وخت کی کول صحیح دي؟ سوال: (۸۸) که چیري څوك

دماپښین او مازدیگر لمونځ په یوه ځای په یوه وخت کي کول غواړي نوکولای سي اوکه نه؟ هغه مهال چي دده دا خیال وي چي دمازدیگر دوخت دشروع کیدلو څخه تر پایه به ددنیاوي کاروبار څخه فرصت تر لاسه نه سي، که چیري جمع کول دماپښین او مازدیگر جایز وي نوکله؟

جواب: دماپښین او مازدیگر لمونځ په یوځای یعني ماپښین کي کول صحیح نه دي که چیري داسي وکړي نوصرف دماپښین لمونځ وسو دمازدیگر دا بیي پرذمه پاته سو، داحنافو رحمهم الله په نزد په حج کي دعرفات څخه بغیر چي هلته دماپښین او مازدیگر لمونځ یو ځای کولای سي او دماپښین په وخت کي کولای سي، بل ځای او په هیڅ وخت کي په سفر اوحضر کي جمع کول دماپښین او مازدیگر دماپښین په وخت کي صحیح نه دي، همدا ډول ماښام او ماخستن داحنافو رحمه الله په نزد پرته له مزدلفي څخه بل یوځاي هم پریوه ځای نه سي کولای. (۱)

اَلْبابُ الثّٰانیْ فِي الاذان

دجومات په فرش باندي اذان کول جایز دي اوکه نه؟ **سوال**: (۸۹) دجومات په فرش باندي دریدل او اذان کول څنګه دي؟

جواب: پنځه وخته اذان دجومات په فرش باندي کول جایز دی مګر غوره داده چي په لوړ ځای ودریږي او دجومات څخه دباندي اذان وکړي. (۲)

دهغه اذان کونکي حکم څنګه دی چی نه په پاکي کی احتیاط کوي اونه په تلفظ کی؟

سوال: (۹۰) کم مؤذن چي دپاکي خیال نه ساتي او داذان الفاظ بیي هم غلط وي نو داسي سړی مؤذن ټاکل په کار دي او که نه؟

جواب: داسي سړی مؤذن ټاکل صحیح نه دي، دهغه داذان راګرځول صحیح دي. (۳)

چی اذان په یوه جومات کی کوي او لمونځ په بل کی دا کار څنګه دی؟ **سوال**: (۹۱) عمر په یوه جومات کي مؤذن دی او هلته داذان کولو څخه وروستــه ولاړ سي، او لمونځ بل ځای

---

(۱) ولا جمع بین فرضین في وقت بعذر سفر ومطر خلافا للشافعي وما رواه محمول علی الجمع فعلا، لا وقتا فان جمع فسد ولو قدم الفرض علی وقته حرم لوعکس اي اخره عنه وان صح بطریق القضاء الا لحاج بعرفة ومزدلفة (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة جلد اول ص۳۵۴، ط.س. ج۱ ص۳۸۱ - ۳۸۲). ظفیر

(۲) وینبغي ان یؤذن علی المئذنة او خارج المسجد ولایؤذن في المسجد کذا في فتاوی قاضي خان والسنة ان یؤذن في موضع عال یکون اسمع لجیرانه یرفع صوته (عالمګیري کشوری الباب الثاني في الاذان جلد اول ص۵۴، ط. ماجدیة ج۱ ص۵۵). ظفیر

(۳) ویستحب ان یکون المؤذن عالما بالسنة تقیا فیکره اذان الجاهل والفاسق الخ (غنیة المستملي ص۳۵۹). ظ

کوي، دا کار څنګه دی؟

جواب: دا کار ښه نه دی. (۱)

څوک چي په یوه جومات کی اذان کوي او په بل کی امامت دا کار څنګه دی؟ سوال: (۹۲) بکر په یوه جومات کي مؤذن دی اوپه بل جومات کي إمام دی، په یوه جومات کي داذان کولو څخه وروسته په بل جومات کي لمونځ ورکوي ایا دا جائز دي، او ایا ددي مؤذن په اذان کولو کي هیڅ نقص نسته؟

جواب: په اذان کي یي هیڅ نقصان نسته او چي دبل جومات امام دی نو هلته امامت کول صحیح نه دی. (۲) فقط

په دفن، قحط او وبا کی اذان ثابت دی اوکه نه؟ سوال: (۹۳) دقحط اووبا په زمانه کي اوپه داسي نورو پيښو کي او یا دمړي دښخولو څخه و وسته اذان کول څنګه دی؟

جواب: په داسي پيښو کي اذان دشارع علیه السلام څخه او دسلفو صالحینو داقوالو او افعالو څخه ثابت نه دی په دې خاطر دا بدعت دی. (۳)

دنابالغ هلک اذان جایز دی اوکه نه؟ سوال: (۹۴) دنابالغ هلك اذان کول جایز دي اوکه نه؟

جواب: نابالغ هلك كه چیري مراهق یعني بلوغ ته نژدي وي نو دهغه اذان بغیر له کراهته صحیح دی. (۴) فقط

په جومات کی اذان کول جایز دی اوکه نه؟ سوال: (۹۵) پنځه وخته اذان او دجمعي اذان په جومات کي کول جایز دی او که مکروه؟

جواب: هیڅ یو اذان په جومات کي مکروه نه دی، خصوصاً دجمعي دخطبي اذان په جومات کي دخطیب په مخکي مسنون دی. (۵) فقط

---

(۱) والافضل ان یکون الموذن هوالمقیم (عالمګیري کشوری الباب الثاني في الاذان جلد اول ص۵۲، ط. ماجدیة ج۱ ص۵۴) اي لحدیث من اذن فهو یقیم (ردالمحتار جلد اول ص۳۲۷). ظفیر

(۲) وان اذن رجل واقام آخر إن غاب الاول جاز من غیر کراهة وان کان حاضرا یلحقه الوحشة باقامة غیره یکره وان رضی به لایکره عندنا کذا في المحیط (عالمګیري کشوری الباب الثاني في الاذان الفصل الاول جلد اول ص۵۲، ط. ماجدیة ج۱ ص۵۴. ظفیر

(۳) في الاختصار علی ماذکر من الوارد اشارة الی انه لایسن الاذان عند إدخال الیت في قبره کما هو المعتاد الآن وقد صرح ابن حجر في فتاویه بانه بدعة ومن ظن انه سنة قیاسا علی ندبهما للمولود الحاقا لخاتمة الامر بابتدائه فلم یصب آه (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ص۸۳۷ ج۱، ط.س. ج۲ ص۲۳۵). ظفیر

(۴) ویجوز بلا کراهة اذان صبي مراهق (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۳، ط.س. ج۱ ص۳۹۱). ظفیر

(۵) ویوذن ثانیا بین یدیه اي الخطیب. ظفیر

داته کلن هلک داذان کولو څه حکم دی؟ سوال: (۹۶) هلك چي دڅومره عمر سي نو اذان کولای سي؟ کم هلك چي داتو کالو وي دپاکي او ناپاکي خيال ساتي او لمونځ هم کوي ايا دا نابالغه هلك اذان کولای سي اوکه نه؟

جواب: که چيري هلك بلوغ ته نزدي (مراهق) وي نو دهغه اذان بلا کراهته بالاتفاق صحيح دی اوکه مراهق نه وي هم خو چي عاقل وي نوبيا هم په ظاهر الرواية کي کراهت نسته اوپه ځيني رواياتو کي مکروه دی، په در مختار کي دي: ويجوز بلا کراهة اذان صبی مراهق وفي الشامی قوله صبی مراهق المراد به العاقل وان لم يراهق کما هو ظاهر البحر وغيره وقيل يکره لکنه خلاف ظاهر الرواية الخ شامي ([1]). فقط

په جمع کی دنه حاضريدلو په وجه په کور کی اذان کول څنګه دی؟ سوال: (۹۷) که چيري دڅه قوي عذر په وجه جومات ته نه سي رسيدلای يا دجومات په جمعه اواذان کي تاخير وي او دی دڅه مريضي يا بل کار په وجه تلوار لري نو په کور کي په اذان کولو سره به لمونځ جايز وي او که ناجايز؟ چي دجومات تر اذان او جمعي پوري انتظار نه سي کولای دعذر له وجهي، او که چيري داذان کولو سره لمونځ نه کوي نو دثواب څخه محروم کيږي نو په داسي وخت کي څه وکړي اذان وکړي اوکه نه؟ او که دجومات تراذان پوري انتظار وکړي؟

جواب: که چيري دعذر په وجه جمعه ورڅخه ساقطه سوه او دغه سړی په مصر کي وي نو اذان هم ساقط کيږي. شامي جلد اول ص۲۸۳: لکن لايکره ترکه لمصل في بيته في المصر لان اذان الحي يکفيه ([2]). فقط

جنوب ته داذان جواب ورکول جايز دي اوکه نه؟ سوال: (۹۸) دجنابت په وخت کي داذان جواب ورکول جايز دي اوکه نه؟

جواب: في الدرالختار من سمع الاذان ولوجنبا الخ يعني هرڅوك چي اذان واوري جواب دي ورکړي اګر که جنب هم وي، وعلله في الشامي بان إجابة الاذان ليست باذان. بحر عن الخالصة. ([3]) فقط

مغموم ته په چاباندي اذان کول او دهغه اوريدل څنګه دي؟ سوال: (۹۹) يو واعـظ صاحب

([1]) ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۳، ط.س. ج۱ ص۳۹۱. ظفير

([2]) بخلاف مصل ولو بجماعة في بيته بمصر او قرية لها مسجد فلا يکره ترکهما إذ اذان الحي يکفيه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الأذان جلد اول ص۳۲۲، ط.س. ج۱ ص۳۹۵). ظفير

([3]) رد المحتار باب الاذان جلد اول ص ۳۲۷ – ۳۲۸، ط.س. ج۱ ص۳۸۵. ظفير

ویلي دي چي که چیري څوك خفه یا غمجن وي نو هغه ته پکار دي چي په چا باندي اذان وکړي او هغه واوري؟

جواب: په دي کي هیڅ ستونزه نسته په شامي کي یي لیکلي دي چي دمغموم اومهموم په غوږکي اذان کول مستحب دی. (١)

اقامت ویونکی به پر کم ځای دریږي؟ **سوال**: (۱۰۰) دفرایضو دتکبیر لپاره اقامت ویونکي ته پرکم ځای دریدل مشروع دي، بالکل امام ته مخامخ اوکه رسته یا چپه لوري ته مستحبه او مسنونه طریقه څنګه ده؟

جواب: شرعاً په دي کي هیڅ ټاکلی اندازه نسته یعني داقامت لپاره شرعا هیڅ ځای امام ته مخامخ یا رسته او یا چپه لوری ته معین نه دی، حسب موقع اوحسب ضرورت کم لوري ته اوکم ځای چي اقامت ویونکی ودریږي او تکبیر وایي نو صحیح دی، او فقهاوو داقامت لپاره کم طرف اوکم ځای نه دی ټاکلی همدغه دلیل دی دعدم تعین او عدم تحدید دفقهي په هیڅ کتاب کي درسته یا چپه لوري یا دمخامخ والي تخصیص داقامت ویونکی لپاره نه دی کړل سوی او کمه چي په عواموکي مشهوره خبره ده چي اذان دي چپه او اقامت دي رسته لوري ته وي دابي بنسټه خبره ده. فقط

داذان جواب قولا واجب دی اوکه فعلا: **سوال**: (۱۰۱) داذان جواب قولي او فعلي دواړه واجب دي او که اول واجب دی، دویم مستحب؟ یا ددي برعکس؟

جواب: داذان جواب قولاً مستحب دی او جومات ته په تللو سره واجب دی، قال في الشامي اي قال الحلواني ان الاجابة باللسان مندوبة والواجبة هي الاجابة بالقدم (٢) الخ والتحقيق في الشامي وقد ذكر اشكالاً في وجوبها ثم اجاب عنه فلينظر ثمه (٣). فقط

---

(١) وفي حاشية البحر لغير الرملي رأيت في كتب الشافعية انه قد يسن الاذان لغير الصلوة كما في اذان المولود والمهموم والمصروع الخ (ردالمحتار باب الاذان ج١ ص٣٢٧ – ٣٢٨، ط.س. ج١ ص٣٩٢). ظفير

(٢) رد المحتار باب الاذان جلد اول ص٣٢٧ – ٣٢٨، ط.س. ج١ ص٣٩٢). ظفير

(٣) قال في النهر وقوله بوجوب الإجابة بالقدم مشكل لانه يلزم عليه وجوب الاداء في اول الوقت وفي المسجد اذ لا معنى لإيجاب الذهاب دون الصلاة وما في شهادات المجتبي سمع الاذان وإنتظر الاقامة في بيته لاتقبل شهادته مخرج على قوله كما لايخفي وقد سئلت شيخنا الاخ، عن هذا فلم يبد جوابا أقول وبالله التوفيق ماقاله الامام الحلواني مبني على ما كان في زمن السلف من صلاة الجماعة مرة واحدة وعدم تكرارها كما هو في زمنه صلى الله عليه وسلم وزمن الخلفاء بعده وقد علمت ان تكرارها مكروه في ظاهر الرواية الافي رواية عن الامام ورواية عن ابي يوسف كما قدمناه قريبا وسياتي ان الراجح عند اهل المذهب وجوب الجماعة وانه ياثم بتفويتها اتفاقا وحينئذ يجب السعي بالقدم لا لأجل الاداء في اول الوقت او في السجد بل لاجل إقامة الجماعة والا لزم فوتها اصلا، او تكرارها في مسجد إن وجد جماعة اخرى وكل منهما مكروه فكذا بوجوب الاجابة بالقدم، =

دارتیا په وخت کي یو سړي په دوو جوماتونو کي اذان کولای سي: **سوال:** (۱۰۲) یوه سړي ته په یوه وخت کي په دوو جوماتونو کي اذان کول صحیح دي اوکه نه که چیري صحیح وي نو لمونځ به کم جومات کي وکړي؟

جواب: که چیري اړتیا وي نو صحیح دي (۱) اوکم ځای چي غواړي لمونځ دي وکړي البته بغیر دضرورته دیوه سړي په دوو جوماتونو کي اذان کول فقهاوو مکروه لیکلی دی. (و یکره ان یوذن في مسجدین لانه یکون داعیا الی ما لا یفعل، غنیة المستملی جلد اول ص۳۷۱. ظفیر). فقط

داذان رسته لوري ته او داقامت چپه لوري ته کول هیڅ حقیقت نه لري: **سوال:** (۱۰۳) اذان رسته لوري ته او اقامت چپه لوري ته کول مشهور دي او په دي باندي داکثرو عالمانو عمل کول لیدل کیږي بلکه دا قید او تخصیص اړین او شرعي ګڼي و ددي خلاف کونکي ملامت ګڼي اوددعا په وخت کي دامام چپه لوري ته په مخ کولو سره کښینستل زیات مذموم ګڼي، په دي صورت کي شرعاً څه حکم دی؟

جواب: داذان چپه او داقامت رسته لوري ته دکولو هیڅ شرعي دلیل نسته او دحدیثو او فقهي په هیڅ یوه کتاب کي نه دي راغلي، دا خبره غلطه ده کنه نوکم خلګ چي داسي وایي هغوی ته څه دلیل راوړل پکار دي، بغیر دڅه دلیل څخه په شریعت کي داسي قیدونه لګول صحیح نه دي، داخبره باید په یاد وساتو او ددعا په وخت کي امام ته رسته لوري او چپه لوري ته ګرځیدل دواړه په حدیث کي راغلي دي او ددواړو خبرو په شریعت کي اجازت سته او حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایي چي هیڅوك دي دشیطان لوری نه اختیاروي چي داسي وګڼي چي رسته لوري ته ګرځیدل ضروري دي، ما ډیر ځلي رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلی دی چي چپه لوري ته راګرځیدلی دی (۲)

= لایقال یمکنه ان یجمع باهله في بیته فلا یلزم شیئ من المحذورین، لانانقول ان مذهب الامام الحلواني انه بذلك لاینال ثواب الجماعة وإنه یکون بدعة ومکروها بلاعذر، وسیاتي في الامامة ان الاصح انه لو جمع باهله لایکره وتنال ثواب فضیلة الجماعة لکن جماعة المسجد افضل (ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۸، ط.س. ج۱ ص۳۹۲). ظفیر

(۱) یکره له ان یوذن في مسجدین (درمختار) لانه اذا صلی في المسجد الاول یکون متنفلا بالاذان في المسجد الثاني الخ (ردالمحتار باب الاذان ص۳۷۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۰) ددي څخه څرګندہ سوه چي مکروه دی خویه صورت مسئوله کي چونکي اړتیا ده ددي وجه کراهت نسته، بیا هیڅ ضرور نه ده چي هغه دي په یوجومات کي دنفلو په نیت سره په جمع کي په لازمي توګه سره شریك سي، والله اعلم. ظفیر

(۲) عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال لایجعل احدکم للشیطان شیئا من صلاته یری ان حقا علیه ان لا ینصرف الاعن یمینه لقد رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم کثیراً ینصرف عن یساره متفق علیه (مشکوة =

انتهی، مگر داهم دحدیث شریف څخه ثابت دي چي زیات وخت به رسول الله ﷺ رسته لوري ته گرځیدی (۱) نو معمول داساتل پکار دي چي زیات دي رسته لوري ته گرځي او کله کله دي چپه لوري ته هم گرځي. (۲) فقط

<u>په اذان کی دباران په وجه صلوا في رحالکم ويل</u>: **سوال**: (۱۰۴) دباران دډیروالي په وخت کي چي کله اذان کونکی پر ځای دحیَّ علی الصلوة او حیَّ علی الفلاح، صلوا في رحالکم ووایي نو جایز دی اوکه نه؟ سره ددي چي خلگ جومات ته نه سي راتلای؟

جواب: اذان کونکی دي حي علی الصلوة او حي علی الفلاح وایي نور دباران دډیروالي په وجه که چیري څوك جومات ته نه سي راتلای اویا په جمعه کي نه سي شریکیدلای نو صحیح دی، او دباران په وجي سره جمعه پریښودل جایز دي (۳) اذأن مگر په اذان کولو کي هیڅ دتغیر راوستلو اړتیا نسته، اوحنفیانو په اذان کي هیڅ تغیر نه دی اختیار کړی.

<u>په اقامت کی رسته او چپه لوري ته مخ اړول</u>: **سوال**: (۱۰۵) په اقامت کي هم دحی علی الصلوة او حي علی الفلاح دویلو په وخت کي داذان په ډول مخ رسته او چپه لوري ته گرځول پکار دي اوکه نه؟

جواب: دفقهي دکتابونو دروایاتو څخه څرگنده سوه چي اقامت هم داذان په ډول دی اوکم ځایونه چي دتوپیر وړ دي په هغو کي فقهاؤ او محققینو مخ گرځول نه دي لیکلي بلکي په مخ گرځولو کي یي اقامت داذان په ډول گرځولی دی، په دي خاطر غوره دا ده چي مخ گرځول دي په اقامت کي هم وي (۴) خوکه څه هم ځیني علماوو په دې علت سره

= باب الدعاء في التشهد ص ۸۷). ظفير

(۱) عن انس رضی الله عنه قال کان النبی ﷺ ينصرف عن يمينه رواه مسلم (ايضاً). ظفير

(۲) فاذا تمت صلوة الامام فهو مخير ان شاء انحرف عن يساره وجعل القبلة عن يميه وان شاء انحرف عن يمينه وجعل القبلة عن يساره وهذا اولی لما في مسلم من حديث البراء كنا اذا صلينا خلف النبی صلی الله عليه وسلم احببنا ان نكون عن يمينه حتی يقبلی علينا بوجهه فان مفهومه ان وجهه عند الاقبال عليهم كان يقابل من هو عن يمينه و ذالك انما يكون اذا كان المسجد عن يمينه والقبلة عن يساره الخ (غنية الستملی ص۳۳۰ ج۱). ظفير

(۳) فلا تجب (اي الجماعة) علی مريض الخ ولا علی من حال بينه وبينها مطر وطين (درمختار) اشارة بالحيولة الی ان المراد المطر الكثير (رد المحتار باب الامامة ص۵۱۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۵۵). ظفير

(۴) والاقامة كالاذان فيما مر (درمختار) واراد بما مر احكام الاذان العشرة المذكورة في المتن وهي انه سنة للفرائض وانه يعاد ان قدم علی الوقت وانه يبدأ باربع تكبيران وعدم الترجع وعدم اللحن والترسل والالتفات والاستدارة وزيادة الصلاة خير من النوم في اذان الفجر واصبعه في اذنيه ثم استشنی من العشر ثلاثة احكام لاتكون في الاقامة فابدل الترسل بالحد الصلوة والصلوة خير من النوم بقد قامت الصلوة وذكر انه لايضع اصبعيه في اذنيه فبقيت الاحكام السبعة مشتركة الخ (ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۰، ط.س. ج۱ ص۳۸۸). ظ

چي اقامت دحاضرینو داعلام لپاره دی، مخ گرځول یي په حیعلتینو کي سنت نه دی گڼلی ددي لپاره په دي کي امکان سته مگر کم علماء چي دي تحویل ته سنت نه وایي هغوی هم ددي مخنیوی نه کوي، بلکه ورته ضروري نه وایي نو په دي اعتبار سره هم کول ددي دنه کولو څخه اولی دي، په دي خاطر دا معمول جوړول مناسب دي.

په اذان کی دشهادتینو په وخت غټه مچول: **سوال**: (۱۰۶) په اذان کي دشهادتینو په وخت بټه گوته مچول او دسترگو سره یي لگول او قرة عیني بك یارسول الله ویل څنگه دي؟

جواب: علامه شامي دکنز العباد څخه نقل کړی دی: ولم یصح في المرفوع من کل هذا شیئ ([1]) او ددي څخه هیڅ هم په مرفوع حدیث کي صحیح سوي نه دي، ددي څخه څرگنده سوه چي دسنتو په توگه دا کارول صحیح نه دي که څه هم په دي زمانه کي یي زیاتره خلگ دسنتو په توگه کاروي او چي څوك یي نه کاروي هغه ملامت او مطعون گڼي، په دي خاطر دا محققینو له پامه غورځولی دی. فقط

په جمع اوماخستن کي تثویب: **سوال**: (۱۰۷) په ځینو ښارونو کي داسي کوي چي اول دجمعي دلمانځه لپاره اذان وکړي له هغه څخه وروسته دوه ځله په لوړ اواز سره الصلوة وایي اوخلگ رابولي بیا دهغه څخه وروسته دخطبې اذان کیږي او بیا په روژه مبارکه کي دماخستن دلمانځه څخه وروسته همدارنگه کوي په دي صورت کي شرعاً څه حکم دی؟

جواب: دا تثویب مختلف فیه دی او په احادیثوکي پردې باندي دبدعت اطلاق کړل سوی دی او ځیني فقهاوو دا جایز گڼلی دی، اوامام ابو یوسف رحمه الله دقاضی او مفتي یا داسي نورو لپاره دا جایز گڼي او همدا خبره قاضي خان اختیار کړي ده نو زیات احتیاط یي پرېښوول دی. ([2]) فقط

دجمعې ددوهم اذان جواب: **سوال**: (۱۰۸) دجمعي په ورځ دمنبر په مخکي چي اذان کیږي

([1]) ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۷۰، ط.س. ج۱ ص۳۹۸. ظفیر

([2]) والتثویب في الفجر حي علی الصلوة حي علي الفلاح مرتین بین الاذان والاقامة حسن لانه وقت نوم وغفلة وکره في سائر الصلوة ومعناه العود الی الاعلام وهو علی حسب ما تعارفوه وهذا تثویب احدثه علماء الکوفة بعد عهد الصحابة لتغیر احوال الناس وخصوا الفجر به لما ذکرنا والمتاخرون استحسنوه في الصلوات کلها لظهر التوالی في الامور الدینیة وقال ابو یوسف رحمه الله لا اری باسا ان یقول الموذن للامیر في الصلوات کلها السلام علیك ایها الامیر الخ واستبعده محمد لان الناس سواسیة في امر الجماعة وابو یوسف خصهم بذلك لزیادة اشتغالهم بامور المسلمین کیلا تفوتهم الجماعة وعلی هذا القاضي والمفتي (هدایه باب الاذان جلد اول ص۸۴). ظفیر

دهغه جواب درمختار مکروه ګڼلی دی خو دهغه حاشیه ردالمحتار یعني شامي او طحطاوي او نورو فقهاوو محققینو ترجیح ورکړیده او ددي خلاف دجواب ورکولو استحباب یي ثابت کړی دی او ترجیح اوتائید یي دجواب ورکولو ته ورکړی دی؟

جواب: اقول لکن في الشامي باب الجمعة والظاهر ان مثل ذلك يقال ايضا في تلقين المرقى الاذان للموذن والظاهر ان الكراهة على المؤذن دون المرقى لان سنة الاذان الذي بين يدي الخطيب تحصل باذان المرقي فيكون المؤذن مجيبًا لاذان المرقي واجابة الاذان حينئذ مكروهة الخ ص۵۵۱ شامي [1] جلد اول، وفيه ايضا وذكر الزيلعي ان الاحوط الانصات، فقط حاصل دا دی چي ددوم اذان جواب ورکول مکروهه دي.

بی اودسه اذان کول صحیح دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۹) که چیري اذان بي اودسه وکړل سي نوصحیح دی اوکه نه؟ او آیا پرکلیوالو باندي څه وبال سته؟

جواب: بي اودسه اذان کول صحیح دی پرچا باندي مواخذه او وبال نسته، البته غوره دا ده چي په اوداسه سره اذان وکړي [2] په دي خاطر ځیني فقهاوو بي اودسه اذان ته مکروهه ویلي دي، ويرى انه يكره الاذان ايضاً اي على غير وضوء، هدايه، وقيل يكره (اي الاذان على غير وضوء) لحديث الترمذي عن ابي هريرة قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لايوذن الا متوضئ. (البحرالرائق. باب الاذان جلد اول ص۲۷۷. ظفير). فقط

که چیري دامام غوږونه درانه وي او داقامت بغیر جمع شروع کړي نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۱۰) دجومات امام پرمصله باندي ودریدی او مقتدیانو ته یي دتکبیر (اقامت) اجازه ورکړه، په تکبیر کي څه تاخیر رامینځ ته سو او امام داقامت په اندازه تاخیر وکړی او دغوږونو ددروندوالي په وجي سره یي اقامت وانه وریدی او نیت یي وتړی نو په لمانځه او دجمع په ثواب کي به څه کمي راسي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي لمونځ وسو او دجمعي ثواب هم ترلاسه سو، او اقامت چي سنت دی متروك سو [3] مګر کله چي دامام دعدم سماع له امله داسي وسوه ځکه نو هیڅ

---

[1] ردالمحتار باب الجمعة، مطلب في حكم المرقي بين يدي الخطيب جلد اول ص۷۷۹، ط.س. ج۲ ص۱۲۹. ظ

[2] ويكره اذان جنب واقامته واقامة محدث لا اذانه على المذاهب (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الاذان جلد اول ص۳۷۴) ثم اعلم أنه ذكر في الحاوي القدسي عن سنن الموذن كونه رجلا عاقلا صالحا عالما بالسنن والاوقات مواظبا عليه محتسبا ثقة متطهرا مستقبلا الخ (رد المحتار باب الاذان جلد اول ص۳۷۵، ط.س. ج۱ ص۳۹۲). ظفير

[3] ويكره اداء المكتوبة بالجماعة في المسجد بغير اذان واقامة كذا في فتاوى قاضي خان (عالمگيري مصري الباب الثاني في الاذان جلد اول ص۵۰، ط.س. ط. ماجدية ج۱ ص۵۳). ظفير

گناه ونسوه. ([1]) فقط

دوچکالي او طاعون په موقع کی اذان ثابت دي اوکه نه؟ سوال: (۱۱۱) دوبا، قحط، وچکالي، طاعون او داسي نورو په موقع کي دلمانځه څخه وروسته اذان کول شرعاً صحيح دي اوکه نه؟ که چيري جايز وي نو شرعي دليل يي څه دی او که ممنوع وي نو موږ چي اوريدلي دي چي په وبا کي دبياباني ديبانو، بلاګانواو پيريانو کثرت وي او دپيريانو ددفع کولو لپاره چي کم حديث: واذا تغولت الغيلان نادی بالاذان، او بل حديث: واذا رای الجيرتی فليطفئه بالتکبير سره دجواز دليل نيول صحت لري اوکه نه؟

جواب: په وبا او قحط کي اذان کول منقول نه دی او دتغول او غيلان په وخت کي چي کم اذان مستحب دی دهغه مطلب دا دی چي غيلان جن محسوس سي مثلا په ځنګل اوداسي نوروکي څوك دجناتو احساس وکړي نوهغه وخت داذان کولو حکم دی، په وبايي مرضونو کي دا وارد نه دی نه دا پرهغه باندي قياسيږي، ځکه چي قياس اول خو دمجتهد معتبر دی نه زموږ دخلګو، او برسيره پردي داقياس مع الفارق دی په وبايي مرضونو کي تغول دغيلان نه محسوس کيږي. ([2]) فقط

چي دقران دتلاوت په وخت اذان واوري نوڅه کول په کار دي؟ سوال: (۱۱۲) دقران دحفظ کولو ياناظره کولو په وخت کي داذان جواب چي واجب دی ورکول په کار دي اوکه دقران تلاوت جاري ساتل جايز دي؟

جواب: داذان جواب ورکول مستحب دي که چيري قران شريف بند کړي او داذان جواب ورکړي نوښه خبره ده اوکه چيري دقران شريف تلاوت جاري وساتي او اذان ته جواب ورنه کړي نو هيڅ ګناه نه لري. ([3]) فقط

په اذان کی دترجيع بحث: **سوال**: (۱۱۳-۱) په اذان کي چي ځيني خلګ شهادتين دوه واره په ټيټ اواز سره وايي اودوه واره په لوړ اواز سره داجايز دی او که نه؟

پر محمد رسول الله باندي (صلی الله عليه وسلّم) ويل څنګــه دي؟ سوال: (۱۱۴-۲) کله چي

([1]) والاقامة کالاذان فيما مر (درمختار) واراد بما مر احکام الاذان العشرة المذکورة في المتن وهي انه سنة للفرائض الخ (ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۰، ط.س. ج۱ ص۳۸۸). ظفير

([2]) وهو سنة الخ للفرائض الخ لايسن لغيرها الخ (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الاذان ص۳۵۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۸۴). ظفير

([3]) ويجيب وجوبا وقال الحلواني ندبا والواجب الاجابة بالقدم من سمع الاذان ولو جنبا لا حائضا و نفساء وسامع خطبة الخ بخلاف قران (درمختار) لانه لا يفوت ولعله لان تکرار القراءة انما هو للاجر فلا يفوت بالاجابة بخلاف التعلم فعلى هذا يقرء تعليما او تعلما لا يقطع (ردالمحتار باب الاذان ص۳۲۷ - ۳۲۸ ج۱). ظفير

په اذان کولوکي (محمد رسول الله) راسي نو اذان کونکی ځنډیږي او ورسره (صلی الله علیه وسلم) وایي دا څنګه دی؟

دحضرت بلال ﷺ اذان: **سوال:** (۱۱۵-۳) دحضرت بلال رضی الله عنه اذان کم یو دی؟

جواب: ۱- دا ترجیع ده چي دحنفیانو رحمهم الله په نزد په اذان کي سنت نه ده، دا دابو محذوره رضی الله عنه په حدیث کي وارد دي هغه ته نبي کریم صلی إلله علیه وسلم دتعلیم په غرض دشهادتینو دوباره کولو حکم فرمایلی وو او دحضرت بلال رضی الله عنه په اذان کي اودآسمان څخه دراکښته کیدونکي فرشتي په اذان کي ترجیع نه وه په دي باندي دحنفیانو رحمهم الله عمل دی. ([1])

(۲) داسي ویل په اذان کي ثابت نه دی. ([2])

(۳) دحضرت بلال رضی الله عنه اذان همدغه ډول وو څنګه چي اوس کیږي. ([3]) فقط

داذان او اقامت په مینځ کی درود ویل څنګه دي؟ **سوال:** (۱۱۲-۱) داقامت او اذان په مینځ کي مؤذن دحضور ﷺ په نوم باندي درود ووایي اوکه غوره یي نه ویل دي؟

داذان څخه وروسته دعا ته لاسونه پورته کول مسنون دي اوکه نه؟ **سوال:** (۱۱۷-۲) داذان دعا دي په لاس پورته کولو سره وکړي مسنونه کمه طریقه ده؟

دقرآن او ددرود شریف دتلاوت په وخت کي چي اذان واوري نو....؟ **سوال:** (۱۱۸-۳) چي قران مجید یا درود شریف وایي اذان شروع سي نو داذان جواب ورکول غوره دي اوکه تلاوت کول یا درود ویل؟

جواب: (۱) موذن ته داذان او اقامت په مینځ کي ددرود شریف دویلو حکم نسته اوداسي ثابت نه دي. فقط

(۲) هر ډول صحیح دی، خوعمل په لاس نه پورته کولو دی. ([4]) فقط

([1]) ولا ترجیع فانه مکروه (درمختار) الترجیع ان یخفض صوته بالشهادتین ثم یرجع فیدفعه بهما لاتفاق الروایات علی ان بلالا لم یکن یرجع وماقیل انه رجع لم یصح ولانه لیس في اذان الملك النازل بجمیع طرقه الخ (ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۵۹، ط.س. ج۱ ص۳۸۲). ظفیر

([2]) دعبدالله بن زید بن عبدربه په حدیث کي اوپه بل هیڅ حدیث کي د (صلی الله علیه وسلم) لفظ ذکرنه دی دعبدالله بن زید په حدیث کي دي، تقول الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر ، اشهد ان لا اله الا الله ، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله، اشهد ان محمدا رسول الله الخ (فتح القدیر، باب الاذان جلد اول ص۲۱۱) بیا په شرح المهذب کي دشافعیه ؤ صراحت دی والزیادة في الاذان مکروهة (البحر الرائق، باب الاذان ج۱ ص۲۷۵). ظفیر

([3]) یعني په هغه به ترجیع نه کیده دحدیثو کتابونه وګوی. ظفیر

([4]) ویدعو عند فراغه بالوسیلة لرسول الله ﷺ (الدر المختار) اي بعد ان یصلي علی النبی ﷺ لما رواه مسلم =

(۳) په درمختار اوشامي کي راغلي دي چي دقران شريف تلاوت دي موقوف کړي او داذان جواب دي ورکړي، نو ددرود شريف هم دغه حکم دی. (۱) فقط

دجمعې اذان دنصف النهار په وخت کي صحيح دی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۹) دجمعې اذان دنصف النهار په وخت کي کولای سي اوکه نه؟

جواب: اذان دوخت څخه مخکي صحيح نه دی ددي لپاره فقهاء ددوباره کولو حکم فرمايي (۲) او دجمعي وخت دماپښين په ډول له زوال وروسته پيل کيږي ځکه نو دجمعي اذان دزوال څخه وروسته کول ښايي دزوال څخه مخکي صحيح نه دی (۳). فقط

دفوت سوو لمونځونو لپاره اذان لپاره اذان په کوکي اوپه صحرا کي: **سوال:** (۱۲۰) په کورکي اوپه صحرا کي دفوت سوو لمونځونو لپاره داذان او اقامت څه حکم دی؟

جواب: په کور کي يا په صحرا کي دفوت سوو لمونځونو لپاره اذان او اقامت کول مسنون دي، په درمختار کي يي ويلي دي چي دمخکني فوت سوي لمانځه دپاره اذان مسنون دی او دپاته نورو لپاره اختيار دی، مګر کول داذان دنه کولو څخه غوره دی او إقامت دټولو لپاره مسنون دی. (۴) فقط

دسهار دقضا سوي لمانځه دپاره دي الصلوة خير من النوم ووايي اوکه نه؟ سوال: (۱۲۱) که چيري دسهار لمونځ قضا سي او دهغه دکولو په وخت کي اذان وکړل سي نو په هغه کي الصلوة خير من النوم ويل مسنون دي اوکه نه؟

جواب: دسهار لمونځ که چيري قضا سو اوپه جمعه سره يي اداکوي نو اذان کول دهغه لپاره سنت دی او اذان په هغه ډول کول په کار دي لکه څنګه چي دسهار اذان دی يعني

= الخ (ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۷۰، ط.س. ج۱ ص۳۹۸). ظفير

(۱) لوكان في المسجد حين سمع ليس عليه الاجابة ولوكان خارجه اجاب الخ فيقطع قراءة القران لوكان يقرء بمنزله ويجيب لو اذان مسجده ولو بمسجد لا (الدر المختار) الظاهر ان المراد المسارعة للاجابة وعدم القعود لاجل القراءة لاخلال القعود بالسعي الواجب و الا فلا مانع من القراءة ماشيا الا ان يراد يقطعها ندبا للاجابة باللسان ايضا الخ (رد المحتار باب الاذان ص۳۷۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۹۸). ظفير

(۲) وهو سنة مؤكدة للفرائض الخمس في وقتها الخ فيكاد اذان وقع بعضه قبله (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الاذان ص۳۵۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۸۴). ظفير

(۳) وجمعة كظهر اصلا واستحبابا في الزمانين لأنها خلفه (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصلوة ج۱ ص۳۴۰، ط.س. ج۱ ص۳۲۷). ظفير

(۴) ويسن ان يؤذن ويقيم لفائتة رافعا صوته لو بجماعة او صحراء لا ببيته منفردا وكذا يسن لاولى الفوائت لفاسدة ويخير فيه للباقي لو في مجلس وفعله اولى ويقيم للكل (درمختار) اى لايخير في القامة للباقي بل يكره تركها (رد المحتار باب الاذان جل۱ ص۳۲۲ – ۳۲۳، ط.س. ج۱ ص۳۹۰). ظفير

الصلوة خير من النوم دي ووايي، كما يفيده اطلاق قول القهستاني وليسن ان يؤذن ويقيم لفائتة رافعًا صوته لو بجماعة او صحراء الخ در مختار (١). فقط

داقامت څخه مخکي بسم الله: **سوال**: (١٢٢) يو سړی دجمعي دتکبير دشروع کولو په وخت کي مخکي بسم الله وايي او بيا تکبير شروع کوي بل سړی وايي چي دا ناجايز دی، نوڅه حکم دی؟

جواب: په دي کي هيڅ ستونزه نسته دهر يوکار په اول کي بسم الله ويل غوره او بهتر دی.

ايا اقامت به هم مؤذن کوي؟ **سوال**: (١٢٣) ايا صرف مؤذن ته تکبير ويل په کار دي اوبل ځوك منع دي که چيري موذن دجومات ملازم وي، اوکه ځوك ملازم نه وي نوکله يوځوك اذان کوي او کله بل ځوك؟

جواب: برابره خبره ده که مؤذن تنخوا اخلي او معين وي او دايمي اذان کوي، اوکه کله کله اذان کوي په هر حال ددي سره سره دموذن څخه بغير بل چاته تکبير ويل صحيح دی مګر غوره دا ده چي ځوك اذان وکړي هم هغه دي تکبير ووايي يادي بل چاته اجازت ورکړي. (٢) فقط

داذان جواب او دعا: **سوال**: (١٢۴) داذان په وخت کي دحديثو حکم جواب ورکول دي سره له دي چي په اوس وخت کي وروسته داذان ترختميدو کلمه طيبه وايي شرعي حکم څنګه دی؟

جواب: داذان په وخت پراوريدونکو دا مستحب ده چي کمي کلمي چي مؤذن وايي دوی يي هم ووايي او دحي على الصلوة او حي على الفلاح په وخت کي دي لا حول ولاقوة الا بالله ووايي. او داذان دختمدو وروسته دي دا ماثوره دعا اللهم رب هذه الدعوة التامه الخ ووايي ښکاره خبره ده چي دماثور اتباع غوره او بهتره ده. (٣) فقط

---

(١) الدر المختار على هامش رد المحتار باب الاذان جلد اول ص٣٢٢، ط.س. ج١ ص٣٩٠. ظفير

(٢) اقام غير من اذن بغيبته اي الموذن لا يكره مطلقا او ان بحضوره كره ان لحقه وحشة كما كره مشيه في اقامة (درمختار) ان لحقه وحشة اي بان لم يرض به وهذا اختيار خواهر زاده الخ وقال في البحر ويدل عليه اطلاق قول المجمع ولانكرهها من غيره الخ فلا باس بان ياتي بكل واحد رجل اخر ولكن الافضل ان يكون الموذن هو المقيم اه اي لحديث من اذن فهو يقيم (رد المحتار باب الاذان جلد اول ص٣٢٧، ط.س. ج١ ص٣٩٥). ظفير

(٣) ويجيب وجوبا وقال الحلواني ندبا والواجب الاجابة بالقدم من سمع الاذان الخ بان يقول بلسانه كمقالته الخ الا في الحيعلتين فيحوقل وفي الصلوة خير من النوم فيقول صدقت وبررت الخ ويدعو عند فراغه بالوسيلة لرسول الله ﷺ (درمختار) وروى البخاري وغيره من قال حين يسمع النداء اللهم رب هذه الدعوة التامة =

داذان په وخت کي دغوږونو په سوريو کي ګوتي ورکول سنت دي: سوال: (۱۲۵) اذان ډير وخت دلاس په ايله کولو سره يا ديوه لاس په غوږکي په نيولو سره چي کمي خواته يې خوښه وي په مخ ګرځولو سره کول صحيح دي اوکه نه؟

جواب: دا دسنت څخه خلاف دی خو اذان کيږي (۱). فقط

دجمعي اذان دي دجومات څخه دباندي وکړل سي اوکه نه؟ سوال: (۱۲۶) که دجومات څخه دباندي اذان وکړي نو جايز دی اوکه نه؟

جواب: په جومات کي دننه او له جومات څخه دباندي اذان کول درسول الله ﷺ دزماني څخه بيا تر اوسه پوري دوام لري دخطبي اذان په جومات کي کيږي (۲) او دنورو لمونځونو اذان دجومات څخه دباندي او دننه جائز دي او پرمناره باندي داذان کول فقهاوو ممنوع ګڼلی دی څرګنده ده چي مناره دجومات څخه دباندي وي ددي لپاره دڅه دليل حاجت نسته. (۳) فقط

په تکبير کي داذان دکلمو تکرار: سوال: (۱۲۷) عموما موږ تکبير دوه ځله وايو ايا يو ځل تکبير ويل جايز دی او قد قامت الصلوة دوه ځله جائز دی اوکه نه؟

جواب: دحنفيانو په نزد تکبير داذان په ډول يعني الله اکبر اول څلور ځله او نوري کلمي دوه دوه ځله ويل په کار دي او قد قامت الصلوة هم دوه ځله ويل په کار دي، يو يو ځل دتکبير کلمي ويل دحنفيانو مذهب نه دی. (۴) فقط

په الله اکبر کي دواو اضافه کول غلط دي: سوال: (۱۲۸) په اذان او لمانځه کي الله اکبر ويل په کاردي او که الله هو اکبر؟

جواب: الله اکبر ويل په کار دي، دالله دها مخته واو زياتول نه ښايي. (۵) فقط

= والصلوة القائمة ات محمد ن الوسيلة والفضيلة وابعثه مقاما محمود ن الذي وعدته، حلت له شفاعتي يوم القيامة الخ (ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۷ – ۳۷۰ ، ط.س. ج۱ ص۳۹۲). ظفير

(۱) وجعل ندبا اصبعيه في صماخ اذنيه فاذانه بدونه حسن وبه احسن (الدر المختار على هامش رد المحتار باب الاذان ص۳۲۰، ط.س. ج۱ ص۳۸۸). ظفير

(۲) ويوذن ثانيا بين يديه اي الخطيب (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الجمعه ص۷۷۰) واذا جلس الامام على المنبر اذن الموذنون بين يديه الاذان الثاني للتوارث (غنية المستملي ص۵۲۰). ظفير

(۳) وينبغي ان يوذن على المئذنة او خارج المسجد ولايوذن في المسجد (عالمګيري مصري ص۲۷ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۵۵). ظفير

(۴) والأقامة مثل الاذان عنده الخ ولنا ماروی ابوداؤد عن ابن ابي ليلی عن معاذ الخ (غنية المستملي جلد اول ص۳۵۹). ظفير

(۵) اذا اراد الشروع في الصلوة کبر لو قادر الافتتاح اي قال وجوبا الله اکبر الخ (الدر المختار على هامش =

دیوه مؤذن په دوو جوماتونو کي اذان کول: **سوال**: (۱۲۹) که یو مؤذن په دوو جوماتونو کي اذان کوي نو دا جایز دی او که نه؟

جواب: دابنه نه دی مکروهه دی. (۱) فقط

دسهار په اذان کي دالصلوٰة خیر من النوم زیادت: **سوال**: (۱۳۰) دسهار په اذان کي الصلوة خیر من النوم ولي زیات دی؟

جواب: دسهار په اذان کي دالصلوة خیر من النوم زیاتوالی دحدیث څخه ثابت دی. (۲) اودغه وخت چونکي دغفلت او دخوب وخت دی په دي وجه دا کلمي په دغه وخت کي ویل مستحب دي چي ددي جملي مطلب دادی چي لمونځ بهتر دی تر بیده کیدلو (۳). فقط

دجمعي داذان څخه وروسته دعا: **سوال**: (۱۳۱) دجمعي دلمانځه ددویم اذان جواب او دهغه څخه وروسته اللهم رب هذه الدعوة التامة الخ ویل جایزدی او که نه؟

جواب: صحیح داده چي دجمعی ددویم اذان جواب ورکول مکروه دی، او همدارنګه دماثوره دعا اللهم رب هذه الدعوة الخ ویل هم مکروه دی. (۴) فقط

دجاهل اذان: **سوال**: (۱۳۲) جاهل سړی چي دعالم په ډول الفاظ نه سي ویلای هغه ته داذان کول جایز دي اوکه نه؟

جواب: کم شخص چي اذان صحیح نه سي کولای هغه دي اذان نه کوي، اذان په داسي چاکول په کار دي چي داذان کلمي صحیح تلفظ کولای سي که هغه عالم وي اوکه نه وي. فقط

اذان په جومات کي دننه کول پکاردي او که دجومات څخه دباندي؟ **سوال**: (۱۳۳) اذان دجومات دفرش څخه دباندي کول په کار دي اوکه دجومات دننه؟ اکثره خلګ وایي چي اذان دجومات څخه دباندي نه دي کول پکار، پرفرش باندي اذان کول پکار دي دجومات

= ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل في تاليف الصلوة ج۱ ص۴۴۷، ط.س. ج۱ ص۴۷۹). ظفیر

(۱) یکره له ان یؤذن في مسجدین (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص۳۷۲، ط.س. ج۱ ص۴۰۰). ظ

(۲) عن ابي محذورة قال قالت یا رسول الله علمني سنة الاذان قال فمسح مقدم راسه قال تقول الله اکبر الله اکبر الخ فان کان صلوة الصبح قلت الصلوة خیرر من النوم الخ رواه ابوداؤد (مشکوة باب الاذان ص۲۳). ظفیر

(۳) ویقول ندبا بعد فلاح اذان الفجر الصلوة خیر من النوم مرتین لأنه وقت نوم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص۳۲۰، ط.س. ج۱ ص۳۸۸). ظفیر

(۴) وینبغي ان لایجیبب بلسانه اتفاقاً في الاذان بین یدي الخطیب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان ص۳۷۱) واجابة الاذان حینئذ مکروهة (ردالمحتار باب الجمعه ج۱ ص۷۲۹، ط.س. ج۲ ص۱۲). ظفیر

څخه دباندي اذان كول ممنوع دى او ددي په ثبوت كي دخطبې څخه مخكى اذان وړاندي كوي، دا اذان ولي په جومات كي دننه كيږي په دي اوپه پنځه وخته اذان كي څه فرق دى، اوهغه په جومات كي دننه كول په كار دي اوكه نه؟ اوكه چيري دجومات څخه دباندي يو لوړ ځاى جوړ سي او پرهغه ځاى باندي اذان كوي ددي څه حكم دى؟

جواب: دخطبي داذان څخه بغير نور پاته دپنځه وختو دپاره اذان پريو لوړ ځاى باندي كول غوره دى او دجومات څخه دباندي بهتر دى كه څه هم په جومات كي جايز دى په دې ډول دجمعي دخطبي اذان په جومات كي دكولو لپاره كافي دليل دى، اوپه لوړ ځاى باندي اذان كول په دي وجه مشروع دى چي اواز تر ليري سيمو پوري ورسيږي، او دنبي كريم صلى الله عليه وسلم په زمانه كي به پنځه سره اذانونه دجومات څخه دباندي كيده، او وجه يي داوه چي په لوړ ځاى داذان كولو لپاره دجومات سره متصل به دځيني كورونو پر بامونو باندي اذان كيدى نو دخير الازمنه زماني ددي فعل څخه پنځه وخته اذان دجومات څخه دباندي كول غوره كيدل ثابت سوه، (۱) مگر په جومات كي داذان كولو څخه هم ممانعت نسته، ځكه چي جومات دالله (ج) دذكر لپاره جوړ سوى دى او اذان هم دالله (ج) ذكر دى، قال الله تعالى: ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان يذكر فيها اسمه (۲) الاية. فقط

داقامت دكلمو جواب: **سوال**: (۱۳۴) په اقامت كي دموذن دكلمو جواب وركول داذان په ډول مستحب دى اوكه سنت موكد، مگر كله چي امام ته په قدقامت الصلوة باندي دنيت دتړلو حكم دى نو مقتديان دي دنورو كلمو جواب وركړي او په جمعه كي دي شريك سي اوكه څنگه؟

جواب: مستحب دى (۳) او ددي مستحب دادا كولو لپاره علامه شامي دا فرمايلي دي چي غوره داده چي امام دي داقامت دختميدلوڅخه وروسته تكبير تحريمه ووايي. (۴) فقط

---

(۱) ينبغي ان يوذن على المئذنة او خارج المسجد الخ والسنة ان يوذن في موضع عال يكون اسمع لجيرانه ويرفع صوته ولا يجهد نفسه (عالمگيري مصري باب الاذان ص۵۲ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۵۵). ظفير

(۲) سورة البقره ركوع ۱۴. په عالمگيري كي دي "ولايوذن في المسجد" ددي منشا داده چي داولى څخه خلاف ده دا مطلب يي نه دى چي ناجائز دى. ظفير

(۳) ويجيب الاقامة ندبا اجماعا كالاذان (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص۳۷۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۰). ظفير

(۴) وشروع الإمام في الصلوة مذ قيل قد قامت الصلوة ولو اخر حتى اتمها لاباس به اجماعا الخ واعدل المذاهب الخ وفي القهستاني معزيا للخلاصة انه الاصح (درمختار) لان فيه محافظة على فضيلة متابعة المؤذن واعانة =

داذان څخه وروسته دجومات په لوري تلل ضروري دي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۳۵) اوريدلي مو دي چي داذان څخه وروسته چي کم سړی جومات ته نه ځي هغه ګناهګار دی، که چيري دبل سړي په تاکيد کولو سره هم هغه لمانځه ته ولاړ نه سي نو کافر دی، دا صحيح ده او که نه؟

جواب: په دي کي شك نسته چي کم سړی اذان واوري او جومات ته ولاړ نه سي په جمعي سوه لمونځ ادا نه کړي هغه هم ګناهګاردی (۱) اوکه چيري بالکل لمونځ پريښودونکی وي چي نه جومات ته دلمانځه لپاره ځي اونه په خپل کورکي لمونځ ادا کوي نو هغه دسختي دوجي فاسق او عاصي دی، او ځيني امامان هغه ته کافر وايي لکه څنګه چي په حديث کي راځي: من ترك الصلوة متعمدا فقد كفر (۲) يعني چاچي قصدا لمونځ پريښودی نو هغه کافر سو يعني کفر ته ورنژدي سو او دلمانځه دفرضيت څخه انکار کول په اتفاق سره کفر دی. اعاذنا الله تعالی منه. فقط

إقامت دلومړي صف څخه ضروري نه دي: **سوال**: (۱۳۶) مؤذن بايد اقامت په لومړي صف کي وکړي اوکه په کم صف کي چي زړه يې غواړي؟ مستحب څه دی؟

جواب: په کم صف کي چي وي په هغه کي اقامت کولای سي په دي کي څه قيد نسته او په لومړي صف کي کيدل اړين نه دي (۳). فقط

بې اودسه اذان کول جايز دي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۳۷) دجومات امام چي بې اودسه اذان وکړي يا داذان کولو څخه وروسته چيلم څکولو ته يا اودس ماتي ته ولاړ سي، دا جايز دي اوکه نه؟

جواب: دفقهي په کتابونو کي دا راغلي دي چي بې اودسه اذان کول مکروه نه دی، يعني مکروه تحريمي نه دی، کما في الدرالمختار، ويكره اذان جنب واقامته واقامة محدث لا اذانه على المذهب (۴) الخ مګر په شامي کي منقول دي چي اذان په اوداسه سره کول

= له على الشروع مع الامام (ردالمحتار باب صفة الصلاة اداب الصلوة ص۴۴۷ ج۱، ط.س. ج۱ ۴۷۹). ظفير

(۱) الجماعة سنة مؤكدة لقوله عليه السلام الجماعة من سنن الهدى لايتخلف عنها الامنافق (هدايه باب الامامة جلد اول ص ۱۰۹). ظفير

(۲) دغه وخت موږ په دي الفاظو سره دا حديث تر لاسه نه کړي. په مشکوة کي دا الفاظ سته: لاتترك صلوة مكتوبة متعمدا فمن تركها فقد برات منه الذمة الخ (مشكوة كتاب الصلوة فصل ثالث ص۵۹). ظفير

(۳) ويقيم على الأرض هكذا في القنية وفي المسجد هكذا في البحر الرائق (عالمګيري کشوری باب الاذان فصل ثاني جلد اول ص۵۴، ط. ماجدية ج۱ ص۵۲). ظفير

(۴) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۴، ط.س. ج۱ ص۳۹۲). ظفير

مسنون دی په شامي کي دي: ثم اعلم انه ذکر في الحاوي القدسي من سنن المؤذن کونه رجلا عاقلا صالحا عالما بالسنن والاوقات مواظبا علیه محتسبا ثقة مطهرا مستقبلاً [۱] الخ ددي څخه څرګنده سوه چي په اوداسه سره اذان کول مستحب دی، نو همیشه دبي اوداسه اذان کولو څخه ډډه وکړی، ددي څخه احتراز کول په کار دي نوکه چیري اذان په اوداسه سره وکړي بیا ورته داودس ماتي اړتیا پیدا سي نو دحاجت رفع کول اړینه خبره ده، او دچیلم څکول داصل څخه ښه نه دی ددي څخه هم ځان ساتل ډیره غوره خبره ده. فقط (که چیري چیلم وڅکوي نو جومات ته دراتلو څخه مخکي دي خوله په ښه ډول صفا کړي ددي لپاره چي دهغه په بوي سره چاته تکلیف ونه رسیږي، ظفیر)

<u>تراذان وروسته امام اومقتدیان رابلل څنګه دي؟</u> سوال: (۱۳۸) موذن ته داذان څخه وروسته دامام یا نور لمونځ کونکو رابلل صحیح دهي اوکه نه؟

جواب: دا ښه نه دی، الابضرورة، که کله داسي وسي نو ستونزه نسته. [۲] فقط

<u>په تکیه کولو سره اذان او په ناسته اقامت مکروه دي:</u> سوال: (۱۳۹) څوك چي ددریدلو وس ونه لري اوپه تکیه کولو سره اذان وکړي اوپه ناسته سره تکبیر ووایي نو دهغه تکبیر او اذان مکروه دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي راغلي دي: ویکره اذان جنب واقامته واقامة محدث لا اذانه واذان امرأة وخنثي وفاسق (الی) وقاعد الا إذا أذن لنفسه وراکب إلا المسافر [۳] اودا هم په در مختارکي دی: والاقامة کالاذان [۴] الخ ددي څخه څرګندیږي چي څه ډول اذان په ناستي سره مکروه دی اقامت هم بغیر دعذر څخه په ناستي مکروه دی او دکمزوري له امله دیوال اوداسي بل څه ته په تکیه لګولو سره اذان په ولاړه کول بلا کراهته صحیح دی، فقط

<u>دجمعي لپاره نغاره وهل څنګه ده؟</u> سوال: (۱۴۰) دشیش ګرانو په کلي کي صرف یو جومات دی اوکلی وسیع دی داذان اوازهم ټولو ځایونوته نه رسیږي، دکلي اوسیدونکي

---

[۱] رد المحتار باب الاذان جلد اول ص۳۶۵. ط.س. ج۱ ص۳۹۳. ظفیر

[۲] وکره في سائر الصلوة ومعناه العود الی الاعلام وهو علی حسب ما تعارفوه وهذا تثویب احدثه علماء الکوفة بعد عهد الصحابة لتغیر احوال الناس الخ والمتاخرون استحسنوه في الصلوت کلها لظهور التواني في الامور الدينية وقال ابو یوسف لا اری باسا ان یقول الموذن للامیر في الصلوت کلها السلام علیك ایها الامیر الخ واستبعده محمد رحمه الله لان الناس سواسية في امر الجماعة الخ (هدایه باب الاذان جلد اول ص۸۴). ظفیر

[۳] الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۶۴. ط.س. ج۱ ص۳۹۲. ظفیر

[۴] ایضاص۳۲۰. ط.س. ج۱ ص۳۸۸. ظفیر

ټول لمونځ کونکي دي کم چي کاریګر خلک دي دټولو لمونځونو په وخت کي دهغوي کارونه وي او دکار څخه ولاړيدل دهغوي دتکليف او نقصان باعث دی، ددي لپاره هغوي دجومات پابندي نه سي کولای، ددي وجي دا ترکيب جوړ سوی و چي اذان به پروخت کيدی اودجمعي دتياريدلو په وخت کي به دنغاري په ذريعه چي دجومات څخه دباندي يې ايښي وه کاريګرانو ته خبر ورکول کيدی او کاريګر به راغلل، په دي کي به هغوي انتظار نه کوی اوپه لويي ګڼي سره به جمعه کيده، اوځينو خلګو دنغاري دډنګولو ممانعمت وکړی اوجمعه ماته سوه. څوك چي وس ولري هغوي په انفرادي ډول لمونځونه کوي او نور يې څه ضروي نه ګڼي په داسي صورت کي دنغاري ډنګول چي دجومات څخه دباندي يې ايښي ده څنګه ګڼل کيږي او ددي په باره کي څه حکم دی؟ او دخبرداري لپاره دڅه څخه کار اخيستل په کاردي؟

جواب: اعلام بعد الاذان چي ورته تثويب وايي مخکنيو عالمانو دي ته مکروه او بدعت ويلی دی او متاخرينو عالمانو دخلګو دسستوالي په وجه داجايز ګڼلی دی، نو دمتاخرينو دمذهب پربناء باندي که چيري داعلام لپاره دجمعي دانتظام څه صورت نه وي نو دنغاري په ډنګولو سره اعلام جايز دی: كما في الدر المختار والشامي ويثوب بين الاذان والاقامة في الكل للكل بما تعارفوه (درمختار كتنحنح او قامت قامت او الصلوة الصلوة ولو احدثوا اعلاما مخالفاً لذلك جاز ([1]) (شامی). (اوکله چي داذان اواز اوريدل کيږي نو بغيرداړتيا دنغاري دډنګولو څخه ځان ساتل ښايي په دي وجي سره چي داذان دامر په پيل کي دغه ډول تمام صورتونه رد کړای سول وه. ظفير). فقط

په اقامت کي قد قامت الصلوة په لوړ اواز سره ويل څنګه دي؟ **سوال**: (۱۴۱) داقامت په وخت کي دقدقامت الصلوة لفظ په لوړ اواز سره ويل څه حکم لري؟

جواب: په دي کي څه ستونزه نسته ([2]). فقط

په زندان کی دي اذان وکړل سي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۲) په زندان کي په جمعي سره لمونځ کولاي سي، هلته اذان کول په کار دي او که صرف په تکبير ويلو بايد اکتفا وکړای سي؟

جواب: که چيري هلته پراذان بنديز او ممانعت نه وي نو اذان کول ښه دی اوثواب لري که

([1]) وګورئ: ردالمحتار للشامي باب الاذان جلد اول ص۳۲۳، ط.س. ج۱ ص۳۸۹. ظفير

([2]) والاقامة مثل الاذان الا انه يزيد فيها بعد الفلاح قد قامت الصلوة مرتين هكذا فعل الملك النازل من السماء وهو المشهور (هداية باب الاذان جلد اول ص۸۳). ظفير

چیري یې ونه کړي او صرف پر اقامت باندي اکتفا وکړي نو دا هم بغیر دکراهته صحیح دی، په درمختارکي دي: بخلاف مصل ولو بجماعة (۱) في بیته بمصر او قریة لها مسجد فلا یکره ترکهما إذ اذان الحيّ یکفیه، او په شامي کي دي قوله في بیته اي فیما یتعلق بالبلد من الدار والکرم وغیرهما الخ (۲). فقط

چي په جومات کی دننه وي نو اذان ته جواب ورکول ضروري نه دي: **سوال**: (۱۴۳) زید دماښام داذان څخه مخکي په جومات کي ناست وو اوځو کسانو ته یې څه مسئله بیانوله نو دماښام اذان پیل سو خو زید خپلي خبري ونه درولي، نه یې اذان واوریدی او نه یې جواب ورکړی، دی وایي چي ددین دعلم ښوونکي ته داذان جوابول واجب نه دي، په دي اړه شرعاً حکم دی؟

جواب: کم سړی چي په جومات کي داذان په وخت موجود وي نو هغه ته اجابت باللسان ورکول مستحب دی نوکه چیري دڅه مسئلي په بیانولو سره هغه خپلي خبري ونه دروي او داذان جواب یې ورنکړی نو ګناهګار کیږي نه البته غوره دا وه چي خپلي خبري یې بندي کړي وای او داذان جواب یې ورکړی وای، مګر دمستحب په پریښودلو سره طعن کیدای نه سي او ځیني فقهاء که څه هم دوجوب باللسان قائل دی خو صحیح او راجح عدم وجوب دی (۳). فقط

داذان څخه مخکی دالصلوة والسلام رواج صحیح دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۴) داذان څخه مخکي الصلوة والسلام علیك یارسول الله اوداسي نور چي ورته صلوة وایي او په مکه معظمه اومدینه منوره کي ویل کیږي دا صحیح دی اوکه نه؟

جواب: ددي ویلو څه ضرورت نه نسته. (۴) فقط

په اذان کی پرشهادتینو باندي ګوتي مچول څنګه دي؟ **سوال**: (۱۴۵) په اذان کي دشهادتینو په وخت کي ګوتي مچول څنګه دي؟ کم سړی چي ددي څخه منع کوي دهغه اقتداء په لمانځه کي جایزده اوکه نه اوځوك چي ګوتي نه مچوي هغه ګناهګار دی اوکه نه؟ اوکه چیري ګوتي مچول مستحب یا سنت وي نو ددي دلیل څه دی؟

---

(۱) قوله ولو بجماعة وعن ابي حنیفة ﷺ لو اکتفوا باذان الناس اجزاهم وقد اساوا (ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۷، ط.س. ج۱ ص۳۹۵) ددي څخه څرګنده سوه چي ښه همدا ده چي اذان وکړل سي. ظفیر

(۲) وګورئ: رد المحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۷، ط.س. ج۱ ص۳۹۵. ظفیر

(۳) ویجیب وجوبا وقال الحلواني ندبا من سمع الاذان (درمختار) اي قال الحلواني ان الاجابة باللسان مندوبة والواجبة هي الاجابة بالقدم (ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۷، ط.س. ج۱ ص۳۹۲). ظفیر

(۴) ځکه په شریعت کي ددې هیڅ اصل نسته په دی خاطر دځان ساتل ورڅخه په کاردی. ظفیر

جواب: دتقبیل ابهامین داستحباب دلیل دشامي څخه دا عبارت دی: یستحب ان یقال عند سماع الاولی من الشهادتین صلی الله علیک رسول الله وعند الثانیة منها قرت عیني بک یا رسول الله ثم یقول اللهم متعنی بالسمع والبصر بعد وضع ظفری الابهامین علی العینین فانه علیه السلام یکون قاعدا له في الجنة کذا في کنز العباد وقهستاني ونحوه في الفتاوی الصوفیة وفي کتاب الفردوس من قبل ظفري ابهامیه عند سماع اشهد ان محمدا رسول الله صلی الله علیه وسلم في الاذان انا قاعده ومدخله في صفوف الجنة وتمامه في حواشي البحر للرملي عن المقاصد الحسنة للسخاوي، وذکر ذلک الجراحی واطال ثم قال ولم یصح في المرفوع من کل هذا شيء (۱) الخ، شامي جلد اول ص۲۲۷ باب الاذان. دشامي داخری عبارت څخه داهم څرګنده سوه چي هیڅ یو مرفوع حدیث په دي باره کي نسته، وروستی خبره داده چي په ضعیف حدیث باندي هم په فضائل اعمال کي عمل کول صحت لري، خو دهغه شرط دادی چي دغه کار به مسنون ګڼي، کذا في الدرالمختار، نوکه څه هم ځیني عوام په دي کي زیاتی کوي او داسنت ګڼي اوکوي یي، اوپر نه کونکي باندي یي طعن او ملامتي وایي لیکن محققین علماء ددي نه کول زیات احتیاطي ګڼي، او نه کوونکی یې ګناهګار نه دی، په هغه پسي اقتداء بالکل صحیح ده. فقط

<u>**په اذان کی دسینی دګرځولو ممانعت**</u>: **سوال**: (۱۴۶) یوه سړي په اذان کي خپله سینه رسته او چپه لوري ته ګرځوله ما هغه منع کړی او ورته ومي ویل چي داډول سینه ګرځول منع دي، دا صحیح ده که نه؟

جواب: دا صحیح ده چي په اذان کي په حیعلتین کي صرف مخ رسته او چپه لوري ته واړول سي، خو سینه دي دقبلي لوري ته وي. (۲) فقط

<u>**دضد په وجه داذان نه کول**</u>: **سوال**: (۱۴۷) په یوه جومات کي دوه إمامان دي دواړه سکه ورونه دي، په خپل مینځ کي سره ناخوښ وي، ددي وجه اذان نه کوي چي وایي کیدای سيِ دا بل به کړي وي، نوکم امام چي راسي هغه جمعه ورکړي، په داسي صورت کي شرعًا لمونځ کیږي اوکه نه؟

---

(۱) رد المحتار باب الاذان جلد اول ۳۷۰، ط.س. ج۱ ص۳۹۸. ظفیر

(۲) ویستقبل بهما (ای الاذان والاقامة) القبلة ولو ترک الاستقبال جاز ویکره کذا في الهدایة واذا انتهي الی الصلوة والفلاح حول وجهه یمینا وشمالا وقدماه مکانهما (عالمګیري کشوری باب الاذان جلد اول ص۵۴، ط. ماجدیة ج۱ ص۵۲). ظفیر

جواب: په داسي صورت کي لمونځ کيږي خو داذان دسنت پرېښودلو ګناه ددوی په غاړه ده، قال في الدر المختار وهو سنة للرجال في مکان عال مؤکدة هي کالواجب في لحوق الاثم (۱). فقط

په رواني کی تکبير شروع کول څنګه دي؟ **سوال**: (۱۴۸) که چيري مؤذن په رواني کي تکبير پيل کړي اوځای ته په رسيدلو سره يي پوره کړي نو دا دسنت خلاف نه دی؟

جواب: دا خلاف اولی او دسنت خلاف دی، الا ان يکون احيانا عن ضرورة، قال في الدر المختار ويستقبل غير الراکب القبلة بهما ويکره ترکه تنزيها (۲) الخ. ځرګنده سوه چي په رواني کي دقبلي استقبال هم ترك کيږي، (قوله غير الراکب) عبارة الامداد الا ان يکون راکبا مسافرا لضرورة السير الخ (۳)، شامي. فقط

دشيعه ګانو په اذان کی اضافه والی او دهغه حيثيت: **سوال**: (۱۴۹) شيعه ګان په خپلو جوماتو او داسي نورو مقاماتو کي داذان په وخت کي په لوړ اواز سره داشهد ان امير الومنين وامام المتقين عليا ولي الله ووصی رسول الله يا حجة الله کلمه ادا کوي ايا اهل سنت اوجماعت ته داسي کلمات اوريدل جايز دي؟

جواب: دروافضو په اذان کي دا کلمه زياتول داحاديثو صحيحو څخه خلاف دي کم چي داذان په باره کي مروي دی (۴) په دي خاطر بدعت او ممنوع دی او که چيري ددي سره دخليفة رسول الله لفظ بلا فصل هم زيات کړای سي لکه څنګه چي په ځينو ځايونوکي داسي سوي دي نودا نورهم زيات بد دی ولي چي دا کذب او افترا ده ځکه چي په حقيقت کي خليفه اول حضرت ابوبکر صديق رضی ا لله عنه دی، دهغه څخه وروسته حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دی، دهغه څخه وروسته حضرت عثمان رضی الله عنه دی او دهغه څخه وروسته حضرت علي ﷺ دی نو دخلافت ترتيب په دي طريقي سره دی، ددي خلاف عقيده لرل حرام دی او بدعت دی (۵) غرض داچي په اذان کي هغه

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۵۲، ط.س. ج۱ ص۳۹۴. ظفير

(۲) ردالمحتار، باب الاذان جلد اول ص۳۲۱، ط.س. ج۱ ص۳۸۹، ددي څخه وروسته مذکور دي: لان بلالا اذن وهو راکب ثم نزل واقام علی الارض (ايضا). ظفير

(۳) ردالمحتار، باب الاذان جلد اول ص۳۲۱، ط.س. ج۱ ص۳۸۹، ددي څخه وروسته مذکور دي: لان بلالا اذن وهو راکب ثم نزل واقام علی الارض (ايضا). ظفير

(۴) دتفصيل دپاره وګورئ: مشکوة باب الاذان ص۲۳. ظفير

(۵) وافضل الناس بعد رسول الله ﷺ الخ ابوبکر الصديق الخ ثم عمر بن الخطاب الخ ثم عثمان الخ ثم علی بن ابی طالب الخ (شرح فقه اکبر ص۷۴). ظفير

کلمات زیاتول چي په سوال کي منقول دي داهل سنت والجماعت په نزد جایز نه دي، دا دروافضو خذلهم الله تعالی دبدعاتو او مخترعاتو څخه دي حنفیان، شافعیان او داسي نور ددي اجازت نه ورکوي. فقط

په سرتور سر اذان کول صحیح دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۵۰-۱) مؤذن ته په سرتور سر اذان کول جایز دی اوکه نه؟

په سر تورسر لمونځ کول جایز دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۵۱-۲) په سرتور سر لمونځ کول صحیح دی اوکه نه؟ دداسي کولو لپاره څه حکم دی؟

ایا په سرتور سر اذان او لمونځ کول دروافضو طریقه ده؟ **سوال**: (۱۵۲-۳) په سر تور سر لمونځ یا اذان کول دروافضو او شیعه ګانو) عمل دی او که نه؟

جواب: (۱-۳) فقهاوو په سرتور سر لمونځ کول مکروه لیکلي دي، په اذان کي یي ددي تصریح نه ده فرمایلي، او په لمانځه کي یي هم دا تفصیل کړی دی چي دسستي په وجي سره سر لوڅ لمونځ کول مکروه دی، اوکه چیري دتذلل، انکسار، خشوع او خضوع په وجي سره سرتور سر لمونځ کوي نو کراهت نسته، (۱) مګر اول غوره داده چي په سر تور سر دي اذان نه کوي او که چیري په یوځای کي دادروافضو شعار وي نو بیا دي ضرور دهغوی مخالفت وکړي سر تور سر اذان دي نه کوي ددي لپاره چي دهغوی سره مشابهت رانه سي، په در مختار کي راغلي دي: وصلوته حاسرًا ای کاشفا راسه للتکاسل ولاباس به للتذلل الخ ولو سقطت قلنسوة فاعادتها افضل الخ درمختار (۲). فقط

دلمانځه دباطل کیدو په صورت کي دلمانځه دراګرځولو په وخت کي تکبیر ویل کیږي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۵۳) امام دمازدیګر دڅلورو رکعتو پرځای په غلطی سره پنځه رکعته ادا کړل، چا وریاد نه کړه اوس امام او مقتدیان ددرود او وظیفو څخه فارغ سوي او دعا کولو ته تیاروه چي درکعتونو دشمېر بحث شروع سو لمونځ دویم ځل راوګرځول سو او تکبیر هم دویم ځل وویل سو، داجایز دی اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دوباره دتکبیر ویلو ته اړتیا نسته که چیري دوباره وویل سي په دي وجه چي فصل اوږد سوی دی نوهیڅ پروانه لري، دفقهي په کتابونو کي خو دالیکلي

---

(۱) وکره کفه الخ وصلاته حاسراً ای کاشفا رأسه للتکاسل ولا باس به للتذلل واما للاهانة بها کفر (درمختار) قوله: ولا باس للتذلل قال في شرح المنیة فیه اشارة الی ان الاولی ان لا یفعله وان یتذلل ویخشع بقلبه فانهما من افعال القلب اهـ وتعقبه في الامداد الخ (ردالمحتار باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها ج۱ ص۵۹۹، ط.س. ج۱ ص۶۴۰ – ۶۴۱). ظفیر

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ایضاً جلد اول ص۵۹۹ – ۶۰۰، ط.س. ج۱ ص۶۴۱. ظفیر

دي: صلی السنة بعد الاقامة او حضر الامام بعدها لایعیدها بزازیه وینبغي إن أطال الفصل او وجد ما يَعُدُّ قاطعا كأكل أن تُعاد الخ درمختار (۱). فقط

داذان څخه وروسته دلاسونو په پورته کولو سره دعا کول ثابت دی که نه؟ سوال: (۱۵۴) داذان څخه وروسته په لاس پورته کولو سره دعا کول ثابت دي اوکه نه؟

جواب: په ځانګړي ډول په دي ځای کي رفع الیدین کول ثابت نه دي، په دعا کي درفع یدین مستحب والی دلته هم داستحباب تقاضا کوي خو معمول نه دی. (۲) فقط

داذان دکلمو دجواب دلیل څه دی؟ سوال: (۱۵۵) داذان دټولو کلمو جواب بعینه دهغو کلمو ویل دي، پرته له حي علی الصلوة او حيّ علی الفلاح او دالصلوة خیر من النوم څخه، چي ددي په جواب کي لا حول ولا قوّة إلا بالله، او صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ ویل کیږي ددي عقلي دلیل څه دی؟

جواب: ددي صرف نقلي دلیل کافي دی (۳). (عقلي دلیل دادی چي انسان اعتراف کوي چي دعباداتو او نورو نیکیو پر ځای راوړل درب العزت په توفیق باندي دی بیا درابلونکي په جواب کي صرف په خپله رابلل څه دعقل سره لګیدونکي خبره نه ده، ظفیر). فقط

اذان او اقامت یوازي دفرائضو لپاره دي؟ سوال: (۱۵۶) تکبیر فقط دفرائضو څخه مخکي ویل کیږي که دسنتو څخه مخکي هم؟

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان تحت الفروع جلد اول ص۳۷۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۰. ظفیر

(۲) عن عکرمة عن ابن عباس قال المسئله ان ترفع یدیك حذو منکبیك او نحوها رواه ابوداؤد (مشکوة کتاب الدعوات ص ۱۹۲). ظفیر

(۳) دحي علی الصلوة او حي علی الفلاح په جواب کي دا الفاظ هم دوباره کول په کار دي او: لاحول الخ هم لوستل په کار دي ولي چي په دواړه ډولو روایت موجود دی واختار في الفتح الجمع بینهما عملا بالاحادیث (ردالمحتار) او دلاحول دلوستلو وجه غالبا داده چي مؤذن چي کله دلمونځ او دفلاح لوري ته بلل کوي نو اوریدونکي دي دا وایي چي دا عظیم الشانه ذمه داري ده او ددي په ځای راوړل یومهم کار دی ولي چي دا هغه امانت دی کم چي پر مځکي او اسمان باندي پیش کړل سونو هغوی هم په لړزان سول او دقبلولو څخه یي ډډه وکړه (فابین ان یحملنها واشفقن منها، القرآن) نو بیا زموږ غوندي ضعیف او ناتوانه په څه کي دي، پرته ددي څخه چي په خپله درب العالمین توفیق یي دلاري ملګری سي او لاس نیول یي وفرمایي، ځکه چي دلاحول ولاقوة الابا الله مفهوم دادی چي دګناه او ناخوښی څخه خلاصون اودطاعت په ځای راوړل ټول هرڅه خاص دالله تعالی په توفیق سره کیدای سي، والله اعلم او د: الصلوة خیر من النوم، په جواب کي د "صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ" په ویلو سره دموذن تصدیق او تایید کیدلای سي او دخپل زړه دمسرت اظهار کیږي سي چي دا موقعه دهمدي خبري ده، په دي الفاظو کي نه دخدای جل جلاله دلویوالی ذکر سته اونه شهادتین، ددی وجه دوباره کول یې مفید نه دی، والله اعلم. ظفیر

جواب: اذان او تکبیر دفرائضو لپاره دی، دسنتو لپاره نه دی داسي په درالمختار کي دي (۱) فقط.

تکبیر کله پیل کیږي؟ سوال: (۱۵۷) دجَمعي په وخت کي پرمصلي باندي دامام ددریدلو څخه مخکي تکبیر پیل کړل سي اوکه په عدم موجودګی کي، ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم به دحجري څخه دتکبیر په اوریدلو سره تشریف راوړی؟ همدایي معمول اوکه کله کله داسي سوي دي؟

جواب: دا اړینه نه ده چي کله امام پرمصلي باندي ودریږي نو هغه وخت دي تکبیر پیل سي بلکي امام چي کله په جومات کي موجودوي نو تکبیر ویل صحیح دی، امام چي تکبیر واوري نوپه خپله به مصلي ته راسي لکه څنګه چي ددرمختار په عبارت کي څرګنده ده: ویقوم الامام والمؤتم حین حی علی الفلاح اذا کان الامام یقرب المحراب والا فیقوم کل صف ینتهي الیه الامام علی الاظهر (۲) الخ. فقط

مقتدیان او امام کله ودریږي؟ سوال: (۱۵۸) دتکبیر په وخت کي مقتدیانو ته اوامام ته کم وخت دریدل په کاردي یو مولوي صاحب دحي علی الفلاح په وخت کي دمقتدیانو دریدل مستحب فرمایلي دي،

جواب: دلمانځه په ادابو کي فقهاو رحمهم الله دا لیکلي دي چي دحي علی الفلاح په وخت کي دي ټول ودریږي مګر څرګنده ده چي که چیري ترمخ لامقتدیان ودریږي نو دپوښتني ځای نه دی ځکه چي دادب اومستحب په پرېښودلو باندي هیڅ طعن اواعتراض نه سي کیدلی، البته بهتره همدا ده څنګه چي فقهاوو لیکلي دي او په درالمختار کي هم دا لیکلي دي چي که چیري امام دمخ له لوري راسي یعني مخامخ راسي نو په کم وخت کي چي پرامام باندي نظر ولګیږي مقتدیان دي ودریږي، په هر حال په دې کي دهر ډول کولو وسعت دی، خو اتباع دفقهاوو دتصریحاتو اولی او افضله ده. (۳) فقط

---

(۱) والاقامة کالاذان فیمامر (درمختار) واراد بمامر احکام الاذان العشرة المذکورة في المتن وهي انه سنة للفرائض الخ (رد المحتار باب الاذان جلداول ص۳۲۰، ط.س. ج۱ ص۳۸۸). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة اداب الصلاة جلداول ص۴۴۷، ط.س. ج۱ ص۳۱۸. ظ

(۳) والقیام للإمام وموتم حین قیل حي علی الفلاح خلافا لزفر فعنده عند حي علی الصلوة ان کان الامام بقرب المحراب والا فیقوم کل صف ینتهي الیه الإمام علي الاظهر وان دخل من قدام قاموا حین یقع بصرهم علیه الا اذا قام الامام بنفسه في مسجد فلا یقفوا حتی یتم اقامته وان خارجه قام کل صف ینتهي الیه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار اداب الصلوة جلد اول ص۴۴۷، ط.س. ج۱ ص۴۷۹). ظفیر

دامام پر قد قامت باندي لاسونه ترل: **سوال**: (۱۵۹) كه چيري يوامام تكبير پوره كيدلو ته نه پريږدي او هميشه په قد قامت الصلوة باندي نيت تړي نو داڅنګه دی؟

جواب: بهتره دا ده چي دتكبير په ختميدلو باندي امام نيت وتړي اوكه چيري په قد قامت الصلوة باندي نيت وتړي نو دا هم جايز دی او دفقهي دكتابونو په متونوكي همدغسي ليكلي دي خواولی اوله خبره ده. ([1]) فقط

دنربنځی اذان اواقامت څنګه دی؟ **سوال**: (۱۲۰) يوسړی نربنځی دی نه سړی دی او نه ښځه او هغه اذان او تكبير دواړه كوي ايا دهغه اذان او تكبير دشريعت په رڼا كي صحيح دی؟

جواب: كه چيري هغه خنثی مشكل نه وي او دسړی علامت دهغه موجود وي نو اذان او تكبير كول او دسړو په صف كي دهغه دريدل جايز دي. ([2]) فقط

په كور كی دننه اذان او جماعت: **سوال**: (۱۲۱-۱) دزيد دكور سره منبتی يوجومات دی چي په دي وخت كي دشيعه ګانو په قبضه كي دی او هغوی په خپله طريقه باندي لمونځ او اذان كوي په داسي حالت كي كه چيري زيد په خپل كوركي اذان وكړي او لمونځ دجمعي سره ادا كړي نوڅه حكم دی په كوركي دننه اذان كول څنګه دي؟

په كوركی دجمعي په كولو سره دجومات ثواب حاصليږي اوكه نه؟ **سوال**: (۱۲۲-۲) په دي صورت كي دجومات ثواب حاصليږي او كه نه؟

كه چيري دماشومانو دعادت راوستلو لپاره په كوركی اذان وكړل سي نوڅه حكم دی؟ **سوال**: (۱۲۳-۳) يواځي دګمراهي دمخ اړولو لپاره په كوركي اذان كيږي ترڅو هلكان خپل اذان اولمونځ هير نه كړي دا څه حكم لري؟

جواب: (۱) په كور كي داذان كولو هيڅ اړتيا نسته څنګه چي وارد سوي دي چي دمحلي دجومات اذان كافي دی، البته تكبير دي ووايي او جمعه دي وكري، مګر په موجوده حالت كي دكلي داذان دننه صحت له وجهي اودهلكانو دتعليم په غرض صحت لري. ([3])

([1]) وشروع الامام في الصلوة مذ قيل قد قامت الصلوة ولو اخر حتی اتمها لاباس به اجماعا وهو قول الثاني والثلاثة وهو اعدل المذاهب كما في شرح المجمع لمصنفه وفي القهستاني معزيا للخلاصة انه الاصح (درمختار) لان فيه محافظه علی فضيلة متابعة المؤذن واعانة له علی الشروع مع الامام (ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل اداب الصلاة جلد اول ص۴۴۷، ط.س. ج۱ ص۴۷۹). ظفير

([2]) ويكره اذان جنب الخ واذان امرأة وخنثی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۴، ط.س. ج۱ ص۳۹۲). ظفير

([3]) وكره تركهما لمسافر ولو منفردا الخ بخلاف مصل ولو بجماعة في بيته بمصر او قرية لها مسجد فلايكره =

(۲) دجومات ثواب به نه وي مګر دجمعي ثواب به حاصل سي. ([1])
(۳) دا وجه معقوله ده په دي سره په کور کي په اذان ویلو کي څه باك نسته. فقط

دشيعه ګانو اذان کافي دي اوکه نه؟ سوال: (۱۲۴) يوجومات شيعه ګانو يواځي دخپل ځان لپاره جوړ کړی دی او وروسته يي حنفيانو ته هم په دي جومات کي دلمانځه دادا کولو اجازت ورکړ خو شيعه ګانو داشرط کښيښوی چي اذان به يو وي که چيري ستاسو اذان مخکي وسو نو موږ به خپل اذان نه کوو، اوکه چيري زموږ اذان مخکي وسو نو بيابه ستاسو اذان نه کيږي په همدغه اذان سره به لمونځ کول وي نو دشيعه ګانو په اذان سره حنفيه خپل لمونځ په جمعه سوه کولای سي او که نه؟

جواب: دشيعه ګانو په اذان سره به داذان سنت ادا نه سي په دي خاطر دوباره اذان داهل سنت والجماعت داذان موافق اړين دی او دشيعه وو اذان کافي نه دی ځکه دي نو دشيعه ګانو دي شرط ته نه تسليميږي او خپل اذان دي په هر وخت کي کوي، اوکه چيري شيعه ګان دا نه مني نو دهغوی په جومات کي لمونځ مه کوي، ځکه چي اذان داسلام له شعائرو څخه دي، ترك کول ددي جايز نه دی او دشيعه ګانو اذان ددي امله چي په شريعت کي معتبر نه دی نو هغه کالعدم دی بلکي دهغوی داذان ځيني کلمات معصيت دي له هغو څخه ځان ساتنه لازمه ده. ([2]) فقط

په الله اکبرکي دراء حرکت: سوال: (۱۲۵) په اذان، اقامت او تکبيراتو کي دلفظ الله اکبر، الله اکبر اوله (راء) دوصل په حالت کي مفتوحه لوستل ښايي او که مضمومه؟ په ردالمحتار کي يي فتحه سنت ليکلي ده.

= تركهما اذ اذان الحي يكفيه (درمختار) وعن ابي حنيفة لو اكتفوا باذان الناس اجزاءهم وقد اساؤا ففرق بين الواحد والجماعة في هذه الرواية بحر (قوله في بيته) اي فيما يتعلق بالبلد من الدار والكرم وغرهما قهستاني الخ قوله لها مسجد اي فيه اذان واقامة والا فحكمه كالمسافر صدر الشريعة (ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص۲۲۲ – ۳۲۷، ط.س. ج۱ ص۳۹۴). ظفير

[1] والجماعة سنة موكدة للرجال الخ واقلها اثنان واحد مع الإمام الخ في مسجد او غيره (درمختار) قال في القنية واختلف العلماء في اقامتها في البيت والاصح انها كاقامتها في المسجد الافي الافضلية اه (ردالمحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۱۵ – ۵۱۷، ط.س. ج۱ ص۵۵۳) محمد ظفير الدين غفرله

[2] الاذان سنة لاداء المكتوبات بالجماعة الخ الاذان خمس عشرة كلمة واخره عندنا لا اله الا الله وهي الله اكبر الله اكبر الخ (عالمګيري مصري الباب الثاني في الاذان جلد اول ص۵۰ – ۵۲، ط. ماجدية ج۱ ص۵۲) قوله كالواجب بل اطلق بعضهم اسم الواجب عليه لقول محمد لو إجتمع اهل بلده على تركه قاتلتهم عليه ولو تركه واحد ضربته وحبسته الخ والقتال عليه لما انه من اعلام الدين وفي تركه استخفاف ظاهر به الخ (ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص۳۲۷، ط.س. ج۱ ص۳۸۴). ظفير

جواب: داولني الله اكبر راء دي ساكنه كړي يا مفتوحه او ددويم الله اكبر دا دي ساكنه كړي، وقفاً كما في الشامي. وحاصلها ان السنة ان يسكن الراء من الله اكبر الاول او يصلها بالله اكبر الثاني فان سكنها كفى وان وصلها نوي السكون فحرك الراء بالفتحة فان ضمها خالف السنة لان طلب الوقف على اكبر الاول صيره كالساكن اصالةً فحرك بالفتح الخ شامي ([1]) عن رسالة اسبد عبدالغني. فقط

دامام دپګړی تړلو څخه مخکی اقامت ختم سو نو ایا بیا تکبیر ویلای سي؟ سوال: (۱۲۲) امام پرمصلي باندي دستمال يا پګړۍ تړله چي مؤذن تكبير ختم كړی، امام ورته وويل چي بيا تكبير ووايه ايا دويم ځل دتكبير ويلو اړتيا وه كه نه؟

جواب: دويم ځل په دي صورت كي تكبير ته اړتيا نه وه ([2]). فقط

څوک چي بالغ نه وي نو دنابالغ اذان صحيح دی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۷-۱) دنابالغ هلك اذان په وخت دموجودوالي يا نه موجودوالي دبالغ سړي كي جايز دی اوكه نه؟ په دواړو صورتونوكي مو دحكم په ښوولو سره ښاد كړئ!

تکبیر دکم لوری څخه ویل کیږي؟ سوال: (۱۲۸-۲) تكبير دچپ لوري څخه جايز دی اوكه نه؟ اوكه صرف درسته لوري څخه دي ويل كيږي؟

جواب: (۱) دنابالغ هلك اذان مكروه تنزيهي دی، په دواړو صورتونو كي يوحكم دی، ادا كيږي خو په كراهت تنزيهي سره او تفصيل په دي كي دا دی چي دنابالغ مراهق اذان مكروه تنزيهي دی ([3]) اوكم نابالغ چي ډير كوچنی وي اوغير عاقل ناپوهه وي نو مكروه تحريمي دی. كذا في الشامي ([4]). فقط

(۲) تكببر چپ لوري ته هم صحيح دی، درسته لوري څه تخص يې نسته. فقط

دتکبیر څخه وروسته چي په جماعت کي تاخیر راسي نو دتکبیر راګرځول څنګه دي؟ سوال:

---

[1] رد المحتار. باب الاذان جلد اول ص۳۵۹، ط.س. ج۱ ص۳۸۲. ظفير

[2] صلى السنة بعد الاقامة او حضر الامام بعدها لا يعيدها بزازيه. وينبغي ان طال الفصل او وجد مايعد قاطعا كاكل أن تعاد (درمختار) اقول قال في اخر شرح المنية اقام الموذن ولم يصل الامام ركعتي الفجر يصليهما ولا تعاد الإقامة لان تكرارها غير مشروع اذا لم يقطعها قاطع من كلام كثير وعمل كثير مما يقطع المجلس في سجدة التلاوة اهـ (ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص۳۷۱ – ۳۷۲، ط.س. ج۱ ص۴۰۰). ظفير

[3] ويجوز بلا كراهة اذان صبي مراهق (درمختار) المراد به العاقل وان لم يراهق كما هو ظاهر البحر وغيره، قوله بلاكراهة اي تحريمية لان التنزيهية ثابتة لما في البحر عن الخلاصة ان غيرهم اولى منهم آهـ اقول وقدمنا اول كتاب الطهارة الكلام في ان خلاف الاولى مكروه الخ (ردالمحتار باب الاذان ص۳۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۹۱).

[4] ويكره اذان جنب الخ وسكران ولو بمباح كمعتو وصبى لايعقل (درمختار) وظاهره ان الكراهة تحريمية (ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۲۴، ط.س. ج۱ ص۳۹۲). ظفير

(۱۶۹) داقامت څخه وروسته امام ډوډی وخوړه، یا یې تر زیات وخت پورې خبرې وکړې نو دلمانځه لپاره داقامت دراګرځولو حاجت سته؟

جواب: دشامي ددې عبارت: لان تکرارها غير مشروع اذا لم يقطعها قاطع من كلام كثير اوعمل كثير (۱) څخه څرګندېږي چې په مسئوله صورت کې دې اقامت راوګرځول سي او په دې کې دامام نه بلکه داقامت ویونکی چې موجب دتاخير دصلوة وي کوتاهي ده. فقط

چې امیان خلګ راجمع سي اوجلا جلا لمونځونه کوي ایا اذان ورباندې نسته؟ سوال: (۱۷۰) په جومات کې دوه یا څلور سړي راجمع سي او ټول امیان وي داقامت قابل یو هم نه وی ټول ځانته ځانته لمونځونه کوي، په داسي حالت کې اذان کول پکار دي اوکه نه؟ او په امامت سره دې لمونځ وکړل سي اوکه ځانته؟

جواب: په یاد سوي صورت کې اذان پرېښودل نه ښايي که جمعه وي اوکه نه وي (۲) اول خو دجمعي کول اړین دي، دامامت لائق که څوك وي اوکه نه وي دامیانو امام امي هم کیدای سي (۳) جمع سنت موکده واجب ته نژدي ده، پرته له کم عذر څخه دي جمع نه پرېښودي. (۴) فقط

دجمعي دتکرار په وخت کی تکبير ويلای سي اوکه نه؟ سوال: (۱۷۱) کم جومات چې دسړك پر غاړه وي په هغه کې اولنۍ جمعه سوي وي که چیري دویمه جمعه کیږي، ایا ددې دویمي جمعي لپاره هم تکبير ثاني ويل په کار دی که نه؟

جواب: که چیري امام او مؤذن ددغه جومات مقرر نه وي نو دویمه جمعه په دغه جومات کې صحیح ده، او اقامت یعني تکبير ثاني دي وويل سي. (۵) فقط و الله تعالی اعلم.

په اذان کی دحیّ علی الفلاح پر ځای دحیّ علی خير العمل ويل څنګه دي؟ سوال: (۱۷۲) د

---

(۱) ردالمحتار باب الاذان ص۳۷۲ ج۱. په درمختار کې دي: وينبغي ان طال الفصل او وجد مايعد قاطعا كأكل ان تعاد (ايضا ص۳۷۱، ط.س. ج۱ ص۳۹۹). ظفير

(۲) الاذان سنة للصلوة الخمس والجمعة لاسواها (هدايه باب الاذان ج۱ ص۸۲). ظفير

(۳) امامة الامي قوما اميين جائزة كذا في سراجية (عالمگيري مصري باب الامامة ص۸۰ ج۱، ط. ماجدية ص۸۵ ج۱). ظفير

(۴) الجماعة سنت موكدة الخ وفي البدائع تجب على الرجال العقلاء البالغين الاحرار القادرين على الصلوة بالجماعة من غير حرج (ايضاً ص۷۷ ج۹، ط. ماجدية ج۱ ص۸۲). ظفير

(۵) بل يكره فعلهما وتكرار الجماعة الا في مسجد على طريق فلاباس بذلك (درمختار) قوله الا في مسجد على طريق هو ما ليش له امام ومؤذن راتب فلا يكره التكرار فيه باذان او اقامة بل هو الافضل خانيه (ردالمحتار، باب الأذان مطلب في تكرار الجماعة في المسجد ص۳۲۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۹۵). ظفير

پنځه وخته لمانځه په اذان کي دحيَّ علی الفلاح پرځای حيَّ علی خير العمل ويل صحيح دي اوکه نه؟ په دي هکله يوحديث موجود دی اوکه نه؟ او دمتقدمينو او متاخرينو څه عمل پاته سوی دی؟

جواب: دپنځه وخته لمانځه په اذان کي دحيَّ علی الفلاح پر ځای دحي علی خير العمل ويل جايز نه دي، په ټولو احاديثو کي حيَّ علی الصلوة، حي علی الفلاح وارد دي، دملك منزل من السماء په اذان کي همدا کلمات دي، حي علی خير العمل نسته پکښي. (١) او داسمانه دراغلي ملکي اذان په دي اړه اصل دی همدغه اذان رسول الله ﷺ ثابت او قائم بللی دی په دي باندي دټولو صحابه وو ﷺ او دټول امت عمل روان وو، او دسنت متوارثه او اجماع دامت څخه خلاف څه خبره اختيارول سراسر ګمراهي او ضلالت دی من شذ شذ في النار (٢) په حديث شريف کي وارد دي. ددين دټولو إمامانو همدا مسلك اوطريقه ده، دهيڅا په دي کي خلاف نسته، پرته دروافضو څخه (٣) خذلهم الله. فقط

چي دلوړ رږغ لرونکی سړی نه وي نو کرار رږغ لرونکی سړی اذان کولای سي؟ سوال: (١٧٣) که چيري دلوړ رږغ لرونکی سړی داذان په وخت کي موجود نه وي او مؤذن مقرر نه وي نو دکرار رږغ لرونکو ته اذان کول جايز دي اوکه تر اخر وخت پوري دلوړ رږغ لرونکي شخص ته انتظار کول په کار دی؟

جواب: دموذن دجهر الصوت کيدل مستحبه خبره ده دهغه دانتظار لپاره تر اخر وخته پوري اذان معطله کول نه دي په کار، قال النبي ﷺ الوقت اولاول رضوان الله، الحديث. (٤) فقط

تکبير رسته لوري ته او اذان چپه لوري ته دخامخا کولو هيڅ اصل نسته: **سوال**: (١٧٤) تکبير رسته لوري ته کول پکار دي اوکه چپه لوري ته؟ يو صاحب فرمايي چي اذان دي چپه

---

(١) وګوري: مشکوة باب الاذان ص٢٣ - ٢۴، دارنګه په حديث کي صراحت دی چي نبی کريم ﷺ کم اذان ښوولی دی په هغه کي حيَّ علی الفلاح ده، عن ابی محذورة قال القي عليَّ رسول الله التاذين هو بنفسه فقال قل: الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر الله اکبر اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله اشهد ان محمدا رسول الله، حي علی الصلوة، حي علی الصلوة، حي علی الفلاح، حي علی الفلاح الخ رواه مسلم (ايضا). ظفير

(٢) مشکوة عن الترمذي، باب الإعتصام بالکتاب والسنة ص٣٠. ظفير

(٣) في شرح المهذب للشافعية يکره ان يقال في الاذان (حي علی خير العمل) لانه لم يثبت عن النبي ﷺ والزيادة في الاذان مکروهة وقد سمعناه الاذان عن الزيدية ببعض البلاد (البحر الرائق، باب الاذان ج١ ص٢٧۵، ط.س. ج١ ص٢٦١). ظفير

(۴) مشکوة عن الترمذي باب تعجيل الصلوة ص٦١. ظفير

لوري ته وي اوتکبیر دي رسته لوري ته، حضور صلی الله علیه وسلم داسي کړي دي په دي کي ثواب دی، ددي برعکس کول په ثواب کي کمی کول دي، بل صاحب وایي چي دواړي خبري برابري دي، تعین کول بدعت دی ولي چي ددي تعین ثابت نه دی.

جواب: دا مشهور والی بي اصله دی، په شریعت کي ددي هیڅ حکم نسته چي اذان دي چپ لوري ته وي او اقامت دي رسته لوري ته وی، بلکي کم لوري ته چي اتفاق وسي اذان او اقامت صحیح دی، هیڅ کراهت په هیڅ جانب کي نسته، چا چي په رسته جانب کي ثواب زیات ښودلی دی دهغه ځخه دي پوښتنه وکړل سي چي په یوه فقهي کتاب کي تا څه تصریح لیدلي ده اوکه په حدیث کي داخبره سته؟ دا خوبیله خبره ده چي رسته لوري ته دریدونکي مقتدي ته زیات ثواب دحدیث په رڼا کي ثابت دی، خو داقامت رسته لوري ته په کولو کي دثواب ډیروالی مي هیڅ ځای تر نظر نه دی تیر سوی، فقط والله تعالی اعلم.

دجمعي په لمانځه کی به تکبیر څوک وایي هغه وخت چي اولنی اذان یوڅوک وکړي اودوهم بل؟ **سوال**: (۱۷۵-۱) دجمعي په ورځ اول اذان یوکس وکړی او دجمعي اذان دمنبر مخ ته بل، نو تکبیر ویل دکوم یوه حق دی؟

چي اذان یا تکبیر غلط ووایي نوهغه راوګرځوي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۷۶-۲) چي یو سړی اذان یا تکبیر غلط ووایي نو دوباره یي راګرځولای سي اوکه نه؟

جواب: (۱) په دواړو کي چي کم یو وغواړي تکبیر دي ووایي په دي کي هیڅ خبره نسته ([1]). (۲) را ودي ګرځوي ([2]). فقط

په اذان کی په محمد رسول الله (ﷺ) باندي درود ویل څنګه دي؟ **سوال**: (۱۷۷) په اذان کي درسول الله صلی الله علیه وسلم په نامه باندي درود شریف ویل څنګه دی؟

([1]) وفي الفتاوی الظهیریة والافضل ان یکون المقیم هو المؤذن ولو اقام غیره جاز (البحر الرائق باب الاذان جلد اول ص ۲۷۰ – ۲۷۱، ط.س. ج۱ ص۲۵۷) څرګنده سوه چي دموذن تکبیر ویل غوره دی او په جمعه کي دویم اذان اصل دی کم چي دمنبر مخ ته کیږي، واختلف في المراد بالاذان الاول فقیل الاذان الاول باعتبار المشروعیة وهو الذي بین یدي المنبر لانه الذي کان اولاً في زمنه علیه السلام وزمن ابي بکر وعمر حتی احدث عثمان الاذان الثاني علی الزوراء حین کثر الناس والاصح انه الاول باعتبار الوقت (غنیة المستملي فصل في الجمعة ۵۱۹) په دي خاطر په قعده کي دمنبر اذان چي څوك وکړي هغه به مقدم وي. والله اعلم. ظفیر

([2]) په غلط اذان سره چي کله مسنون اذان ادا نه سو نو دهغه راګرځول به کیږي، لکه څنګه چي دغیر عاقل ماشوم اذان راګرځول کیږي، وصبی غیر العاقل اذا اذن یجب ان یعاد لعدم حصول المقصود الخ ولوقدم في اذان واقامة شیئا علی محله یعود الی الترتیب ولا یستأنف (غنیة المستملي ص۳۲۱). ظفیر

جواب: په اذان کي چي کله درسول الله صلی الله علیه وسلم نوم واوري نو درود شریف ویل مستحب دی، نوکم وخت چي دموذن څخه اشهد ان محمد رسول الله واوری نو په خپله دي هم دا کلمه و وایي صلی الله علیه وسلم. (۱).

چي څپلی یې په پښو وي نواذان کول څنګه دي؟ سوال: (۱۷۸- ۱) دڅپلیو سره اذان جایز دی او که نه؟

بې اودسه اذان صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۱۷۹-۲) بې اودسه اذان جایز دی اوکه نه؟

جواب: (۱) جایز دی. (۲)

(۲) جایز دی خو بهتره دا ده چي په اوداسه سره اذان وکړي. (۳)

دغیر مقلد په تکبیر سره په لمانځه کی نقصان نه راځي: سوال: (۱۸۰) یوه غیر مقلد پرته دموذن داجازت څخه دجمعي دخطبي اذان په داسي ډول ووایه چي پرځای ددوو کلمو یي یوه کلمه اوپر ځای دڅلورو یي دوې کلمي وویلي بیا موذن دوباره اذان په صحیح طریقه باندي وکړی، ددې سره سره غیر مقلد دریم ځل بیا اذان وکړی، په دي سره دحنفیانو په لمانځه کي خو څه نقصان رانغی؟

جواب: دحنفیانو په لمانځه کي په دي سره څه فرق نه راځي، باقي غیر مقلد چي دضد په وجه دریم ځل تکبیر ووایه دا یي بد وکړل په دي کي هغه ګناهګار سو چي ددین په کارونو کي دضد او نفسانیت څخه کار اخلي. فقط

که په اقامت کی وخت تیرسو نو دراګرځولو اړتیا سته اوکه نه؟ سوال: (۱۸۱) که داقامت څخه وروسته یي ډوډی وخوړه یا یي زیات وخت خبري وکړي نو دلمانځه لپاره داقامت

---

(۱) په اذان کي خو داشهد ان محمداً رسول الله په جواب کي داشهد ان محمدا رسول الله دویلو حکم دی دمسلم حدیث دی چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: اذا قال الموذن الله اکبر، الله اکبر فقال أحدکم الله أکبر، الله اکبر، ثم قال اشهد ان لا اله الا الله قال اشهد ان لا اله الا الله، ثم قال اشهد ان محمدا رسول الله، قال اشهد ان محمدا رسول الله، الحدیث (مشکوة باب فضل الاذان وإجابة المؤذن فصل اول) البته داذان دختمیدلو څخه وروسته ددرود دلوستلو حکم دی، نبوي ارشاد دی چي: اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل مایقول ثم صلوا عليّ فانه من صلی عليّ صلوةً صلی الله علیه بها عشرا الخ رواه مسلم (ایضا) والله اعلم. ظفیر

(۲) وینبغي لداخله تعاهد نعله وخفه وصلاته فیهما افضل (درمختار) قوله وصلاته فیهما اي في النعل والخف الظاهرین افضل مخالفة للیهود وفي الحدیث صلوا في نعالکم ولا تشبهوا بالیهود رواه الطبراني (ردالمحتار مطلب في احکام المسجد ص۲۱۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۵۷) هر وخت چي لمونځ جایز سو نواذان په اوله درجه جایز دی، والله أعلم. ظفیر

(۳) ویکره اذان جنب واقامة واقامة محدث لا اذانه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان ص۴۰۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۹۲). ظفیر

دراګرځولو حاجت سته اوکه نه؟

جواب: دشامي: لان تکرارها غیر مشروع اذا لم یقطعها قاطع من کلام کثیر و عمل کثیر (ج۱ ص۳۷۲) دعبارت څخه څرګندیږي چي په صورت مسئوله کي دي اقامت راوګرځول سي اوپه دي کي دامام او اقامت ویونکي فعل چي هریو دلمانځه دځنډیدو موجب وي برابر دی. ([1]) فقط

دمتعین امام داجازت څخه پرته امامت او اذان صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۱۸۲) دمؤذن او امام داجازت څخه پرته اذان کول او امامت کول څنګه دي؟

جواب: دمقرر مؤذن او امام داجازت څخه پرته اذان کول او امامت کول مکروه دی ددي څخه ډډه کول ښایي. ([2]) فقط

دسهار اذان پرکم وخت کولای سي؟ سوال: (۱۸۳) ځیني خلک دسهار اذان پرځلورو بجو باندي کوي، دسهار اذان کم وخت کول په کار دی؟

جواب: دسهار داذان وخت دصبح صادق څخه وروسته پیل کیږي، نن سبا صبح صادق پر پنځه بجي کیږي، ددي څخه مخکي اذان کول نه دي په کار، دوخت څخه مخکي اذان نه کیږي که چیري دوخت څخه مخکي اذان وکړل سو نو راودي ګرځول سي، لکه چي په در مختار کي راغلي دي: فیعاد اذان وقع قبله ([3]) الخ ص۴۰۰ (جلد اول شامي) اوهمدا ډول په درمختار کي راغلي دي: و انما یستحق ثواب المؤذن اذا کان عالماً بالسنة والاوقات

([1]) صلی السنة بعد الاقامة او حضر الامام بعدها لایعیدها بزازیه وینبغي ان طال الفصل او وجد ما یعد قاطعا کاکل ان تعاد (درمختار) قال في اخر شرح المنیة اقام المؤذن ولم یصل الامام رکعتي الفجر یصلیها ولاتعاد الاقامة لان تکرارها غیر مشروع اذا لم یقطعها قاطع من کلام کثیر اوعمل کثیر مما یقطع المجلس في سجدة التلاوة آه (ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص۳۷۱ – ۳۷۲، ط.س. ج۱ ص۴۰۰). ظفیر

([2]) قال رسول الله ﷺ لا یؤم الرجل في سلطانه ولا یقعد في بیته علی تکرمته الاباذنه رواه مسلم (مشکوة باب الامامة) وصح عن ابن عمر ان امام المسجد مقدم علی غیر السلطان (الی قوله) ولا علی امام الحي ورب البیت الا بالاذن قاله الطیبي (مرقات جلد اول ص۹۰) اقام غیره ای المؤذن إن أذن بغیبته اي المؤذن لایکره مطلقا وان بحضوره کره ان لحقه وحشة کما کره مشیه في اقامته (درمختار) قوله ان لحقه وحشة اي بان لم یرض به وهذا اختیار خواهر زاده ومشی علیه في الدرر والخانیة لکن في الخلاصة ان لم یرض به یکره وجوب الروایة انه لاباس به مطلقا آه قلت وبه صرح الامام الطحاوي في مجمع الاثار معزیا الی ائمتنا الثلاثة وقال في البحر ویدل علیه اطلاق قول المجمع ولا نکرهها من غیره فما في شرحه لابن ملك انه لو حفر ولم یرض یکره اتفاقا. فیه نظر آه وکذا یدل علیه اطلاق الکافي معللا بان کل واحد ذکر فلا باس بان یاتي بکل واحد رجل اخر ولکن الافضل ان یکون المؤذن هو المقیم اه اي لحدیث من اذن فهو یقیم وتمامه في حاشیة نوح (ردالمحتار، باب الاذان جلد اول ص۳۲۷، ط.س. ج۱ ص۳۹۵). ظفیر

([3]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان جلد اول ص۳۵۸، ط.س. ج۱ ص۳۸۵. ظفیر

(^۱) يعني داذان ثواب به هغه وخت حاصليږي چي اذان دسنت طريقي مطابق كول غواړي او وخت پيژني. فقط

اذان پرته دترجيع كولو غوره دي: **سوال:** (۱۸۴-۱) اذان له ترجيع سره غوره دی اوکه پرته له ترجيع څخه؟

سوال: (۱۸۵-۲) دسنن ابي داود هغه حديث چي ورڅخه دجمعي په ورځ دويم اذان دجومات په دروازه کي كول ثابتيږي صحيح دی اوكه ضعيف کومه درجه لري؟

جواب: (۱) دحنفيانو په نزد په اذان كي ترجيع نسته بلكي په درمختار كي يي فرمايلي دي چي ترجيع مكروه ده، ولا ترجيع فانه مكروه ملتقي، شامي فرمايلي دي چي مكروه تنزيهي ورڅخه مراد دی، او داهم په شامي كي راغلي دي: لاتفاق الروايات على ان بلالاً لم يكن يرجع وما قيل أنه رجع لم يصح ولانه ليس في اذان الملك النازل من السماء بجميع طرقه (^۲) الخ.

(۲) دجمعي دويم اذان دمنبر په خوا كي دخطيب په وړاندي مسنون دی لكه چي په درمختار كي راغلي دي: ويؤذن ثانيا بين يديه اي الخطيب الخ اذا جلس على المنبر قوله ويؤذن ثانيا بين يديه (^۳) الخ اي على سبيل السنة (^۴) بيا نو دحنفيانو رحمهم الله لپاره دا حجت كافي دی او دابوداود دحديث متعلق بحث او تفصيل په مطولاتو كي دی، مقلدينو ته دهغه تحقيق اړتيا نسته دفقهي دكتابونو مطابق په مسائلو باندي عمل كول په كار دي. فقط

دخطبي داذان جواب: **سوال:** (۱۸۶) عالمان ددين او مفتيان دشرع متين په دې مسئله كي چي دخطبي داذان جواب وركول جايز دی او كه نه څه پريكړه كوي؟

جواب: صحيح نه دی، كما في الدر المختار: وينبغي ان لايجيب بلسانه اتفاقا في الاذان بين يدي الخطيب (^۵) فقط والله اعلم

دلمونځ كوونكو دخبرولو لپاره په جوماتوكی نغاره ډنكول ښنكه دي؟ **سوال:** (۱۸۷) په جومات كي دلمونځ كوونكو دحاضريدلو لپاره نغاره ډنگول ښنگه ده؟

(^۱) ايضا ص۳۲۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۹۲. ظفير

(^۲) ردالمحتار ج۱ ص۳۵۹، ط.س. ج۱ ص۳۸۲، باب الاذان مع هامشه. ظفير

(^۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۱ ص۷۷۰، ط.س. ج۲ ص۱۲۱ باب الجمعة. ظفير

(^۴) ردالمحتار باب الجمعة جلد اول ص۷۷۰. ظفير

(^۵) الدر المختار مجتبائی، باب الاذان جلد اول ص۳۲۵، ط.س. ج۱ ص۳۹۹. ظفير

جواب: اذان کوئ (۱) نغاره جومات ته دحاضریدلو لپاره وهل صحیح نه دي. (۲) فقط، والله تعالی اعلم.

پرمحمد رسول الله باندي بټه ګوته مچول څنګه دي؟ سوال: (۱۸۸) داشهد ان محمد رسول الله په اوریدلو سره قرة عیني بك یارسول الله ویل او غټه ګوته مچول اوپه سترګو باندي یې ایښودل څنګه دي؟

جواب: ځینو فقهاوو لیکلي دي چي دأشهد ان محمد رسول الله په اوریدلو سره قرة عیني بك یارسول الله ویل مستحب دی او ځیني روایات یې په دي باره کي نقل کړي دي چي ثابت نه دي، او دقول او فعل درسول الله صلی الله علیه وسلم او دصحابه وو رضی الله تعالی عنهم څخه دا عمل ثابت نه دی، نو ترك ددي احوط دی داذان په وخت کي چي کم کلمات منقول دي هغه معمول جوړول پکار دي، په دین کي نوي شیان پیدا کول نه ښایي. فقط

دا جواب سم دی، ددي سوال متعلق دي په دي هم ځان پوهه کړی، چي ځیني موقوف احادیث هم په دې هکله راغلي دي دسند له صحته څخه قطع نظر په دي کي دوې خبري دلحاظ وړ دي یوه دا چي په دغه روایاتو کي دا عمل دعلاج په ډول دخوړیدو څخه دسترګو دحفاظت لپاره راغلی دی، چي یو دنیوي امر دی په دي کي هیڅ فضیلت یا داسي نور ثواب نسته او اوس خلګ دا ثواب او تعظیم نبوي چي دیني امر دی ګڼي، او علاج کول عبادت ګڼل بدعت دی ددي وجي به دا په دي اعتقاد سره بدعت سي، دویم دا چي کوونکي ددي التزام عملاً او اعتقاداً کوي او ترك کوونکي یې مطعون ګڼي. (۳)، فقط کتبه مولانا محمد اشرف علي صاحب تهانوي مدظلهم.

داذان څخه وروسته مقتدیانو ته اوازکول څنګه دي؟ سوال: (۱۸۹) په دي زمانه کي دعوامو

(۱) لان الاذاني من إعلام الدین، کبیري ص۳۵۷. ظفیر

(۲) وفي حدیث ابي داؤد عن عبدالله بن زید قال لما امر النبي صلي الله علیه وسلم بالناقوس یعمل لیضرب به الناس لجمع الصلوة طاف بي وانا نائم (الی قوله) تقول الله اکبر، الله اکبر، (الی اخر الحدیث) کبیري ص۳۵۷. ددي څخه مخکي مفتي علام دنغاري دډنګولو اجازت ورکړی دی خوپه دي شرط سره چي کله هغه داذان څخه وروسته دلمانځه داطلاع لپاره وي دانتظام ددي څخه پرته بل څه صورت نه وي، دلته سوال مختصر دی اودڅه مجبوری ذکر نسته ددې وجي یې اجازت نه دی ورکړی. والله تعالی اعلم. ظفیر

(۳) وفي الشامي ص۲۹۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۹۸: یستحب ان یقال عند سماع الاولی من الشهادة صلی الله علیك یارسول الله وعند الثانیة قرة عیني بك یارسول الله الی قوله وذکر ذلك الجراحي واطال ثم قال ولم یصح في المرفوع من کل هذا شیئ الخ. محمد جمیل الرحمن غفرله

حالت ډیر خراب دی که چیري امام ددوی انتظار نه کوي نو سخت تنګول کوي، که چیري کله لمونځ وکړي او ځیني خلګ پاته سي نو هغوی هم سخت تنګول کوي په داسي صورت کي یو طالب وویل چي تثویب مسنونه طریقه ده مؤذن دلمانځه په وخت کي چي ټول لمونځ کوونکي راجمع سي نو امام رابللای سي او داطریقه دمتاخرینو جاري سویده چي داذان څخه وروسته او داقامت څخه مخکي دجومات پرمناره باندي وخیژي او مقتدیانو ته اواز وکړل سي او دحضرت بلال رضی الله عنه رسول الله ﷺ لره رابلل ثابت دي: ان بلالا کان یجیئ بباب النبی ﷺ بین الاذانین ویؤذنه بالصلوة، په دي هلکه پریکنده خبره او قول فیصل څنګه دی؟

جواب: په درمختار کي راغلي دي: ویثوب بین الاذان والاقامة في الکل للکل (درمختار) قوله في الکل اي کل الصلوة لظهور التواني في الامور الدینیة قال في العنایة احدث المتاخرون التثویب بین الاذان والاقامة علی حسب ماتعارفوه في جمیع الصلوة سوی المغرب مع ابقاء الاول یعني الاصل وهو تثویب الفجر وما رآه المسلمون حسناً فهو عندالله حسن، شامي، قوله للکل اي کل احد وخصه ابویوسف رحمه الله بمن یشتغله بمصالح العامة کالقاضي والمفتي والمدرس واختاره قاضي خان وغیره، نهر ([1])ددي عبارتونو څخه څرګنده سوه چي تثویب دمتأخرینو داحداث څخه دی، او امام ابو یوسف رحمه الله دا دقاضي اومفتي لپاره خاص کړی دی، نوځان ساتل ورڅخه غوره دي اوکه کم ځانګړی او خاص ضرورت وي بیا جواز لري. فقط

ددولسو کالو دهلک اذان صحیح دی؟ سوال: (۱۹۰) که چیري ددولسو کالو هلك اذان کوي نو څه ستونزه سته اوکه نه؟

جواب: هیڅ ستونزه نسته ([2]) فقط والله تعالی اعلم.

دجمعي دسنتو لپاره دمؤذن اواز کول ثابت نه دي: سوال: (۱۹۱) دجمعي دسنتو کولو لپاره دګجرات ملك په جوماتونو کی مؤذن په لوړ اواز سره وایي صلوة سنت قبل الجمعه او پرته دصلوة سنت قبل الجمعه ویلو څخه سنت قبل الجمعه خلګ نه کوي او ددي صلوة قبل الجمعه په جومات کي جمع سي اوانتظار کوي ترڅوپوري چي مؤذن دا صلوة ووایي

([1]) وګورئ: ردالمحتار باب الاذان ص۳۲۱ - ۳۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۸۹. ظفیر

([2]) ویجوز بلاکراهة اذان صبی مراهق اه (درمختار) المراد به العاقل وان لم یراهق کما هوظاهر البحر وغیره وقیل یکره لکنه خلاف ظاهر الروایة کما في الامداد وغیره اه (ردالمحتار باب الاذان ص۳۲۳ - ۳۲۴، ط.س. ج۱ ص۳۹۱). ظفیر

نو دجمعي سنت كوي، په دي الفاظو مؤذن رابلل كوي، الصلوة سنة قبل الجمعه الصلوة رحمكم الله، نو دا ويل فرض دي اوكه واجب ياسنت يا مستحب؟ او ددي الصلوة سنت پيل دكمه ځايه سوی دی؟ او كه چيري دا صلوة سنت قبل الجمعه ونه ويل سي او دجمعي سنت وكړي نو دغه سنت دجمعي كيږي اوكه نه؟ او ايا دا دصلوة سنت قبل الجمعه اواز كه څوك ونه كړي او سنت قبل الجمعه او دجمعي لمونځ وكړي نو غير مقلد، نجدي، وهابي جوړيږي؟ او دحنفي مذهب او اسلام څخه وزي اوبي ايمانه او بي دينه جوړيږي؟ ايا تثوبب چي حنفي فقهاوو مستحسن ګڼلی دی هغه دلمونځونو لپاره مخصوص دی او كه دسنت قبل الجمعه لپاره هم دی؟ ايا ذكر سوی صلوة په محمدي شريعت كي ثابت دی؟ دمعتبرو حنفي كتابونو څخه ثبوت ددي ذكر سوي صلوة سره دشرعي دلايلو، او سره دنقل كولو داصل عبارت دمستندو كتابونو او نوم دكتاب او دمصنف وليكئ، او په دي كار سره ستر اجر حاصل كړئ!

جواب: صلوة سنت قبل الجمعه ته درابللو هيڅ اړتيا نسته بلكي كم وخت چي زوال وسي او اول اذان دجمعي وسي نو لمونځ كوونكو ته په كار دي چي پخپله سنت قبل الجمعه ادا كړي او كله چي وخت دسنتو سي نو پرته داواز كولو څخه داالصلوة سنت قبل الجمعه الخ كه چيري يوسړی سنت قبل الجمعه وكړي نو سنت ادا سوه اوپه دي سره غير مقلد او داسي نور نه جوړيږي، دا دجاهلانو نظرونه دي، او تثويب چي ځيني فقهاؤ ([1]) په ځينو لمونځونو كي دځينو اشخاصو لپاره مستحب فرمايلي وو هغه تر فرائضو مخصوص دي او تثويب هم متروك دي ځكه چي دا دسنت خلاف دی او صحابه ؤ ﷺ ([2]) وربانديٰ انكار فرمايلی دی. ([3]) كتبه عزيز الرحمن عفی عنه مفتي مدرسه عاليه ديوبند.

<u>داذان په وخت كي په غوږونو كي ګوتي وركول دهر اذان لپاره دي اوكه صرف دجومات داذان لپاره؟</u> سوال: (۱۹۲) ددواړو سبابو ګوتو په غوږونو كي دداخلولو مستحبوالی

([1]) يعنى من المتاخرين كما في الهداية وغيرها و الا فالمتقدمون من فقهاء الحنفية منعوا عنه كما ني كتب الفقه وللفاضل اللكنوي فيه رسالة مستقلة (التحقيق العجيب في التثويب) فراجعها. ظفير

([2]) كعلي وابن عمر رضي الله عنهم كما في كتب الحديث. ظفير

([3]) والتثويب في الفجر حي على الصلوة حي على الفلاح بين الاذان والاقامة حسن لانه وقت نوم وغفلة وكره في سائر الصلوت ومعناه العود الى الاعلام وهو على حسب ماتعارفوه هذا تثويب احدثه علماء الكوفة بعد عهد الصحابة لتغير احوال الناس الخ والمتاخرون استحسنوه في الصلوة كلها لظهور التواني في الامور الدينية وقال ابويوسف لا ارى بأسا ان يقول الموذن الخ واستبعده محمد لان الناس سواسية في امرالجماعة الخ (هدايه، باب الاذان ص۸۴ ج۱). ظفير

یوازي دجومات تر اذان پوري خاص دی اوکه دجومات پرته په نورو ځایونو کي داذان کولو په وخت کي هم مستحب دي؟

جواب: په ټولو اذانونو کي مستحب دي، کما هو مفاد الاطلاق. ([1]) فقط

دقضا لمونځونو لپاره دتکبیر او اذان څه حکم دی او دسړي او ښځي یو حکم دی که بیل بیل؟

سوال: (۱۹۳- ۱) دقضا لمونځونو لپاره تکبیر ویل او اذان کول په کاردي اوکه نه؟ دسړي او ښځي څه فرق سته اوکه نه؟

دلمانځه لپاره په مکان او دوکان یا ځنګل کی اذان وکړي اوکه نه؟ سوال: (۱۹۴-۲) که چیري یوسړی پنځه وخته لمونځ په مکان، دوکان یا ځنګل کي کوي نو دهغه لپاره تکبیر ویل څنګه دی؟

ددویم اذان څخه مخکی استووا رحمکم الله ویل څنګه دي؟ سوال: (۱۹۵-۳) دخطبي داذان څخه مخکي داستووا رحمکم الله ویل څنګه دي؟

جواب: (۱) دقضا لمانځه لپاره دي تکبیر او اذان وکړي که چیري دجومات څخه دباندي په جمع سره وي اوپه جومات کي دي اذان او تکبیر نه وایي او ښځي دي هم نه وایي. ([2])

(۲) که دجمعي سره لمونځ کوي نو اذان او تکبیر دي ووایي، یوه سړي ته ضروري نه دی اوکه چیري یي ووایي نو هیڅ ستونزه نسته.

(۳) دخطبي په وخت کي چي یې کم اذان دخطیب په مخکي کي کیږي دهغه په پیل کي ددې لفظ دویلو څه اړتیا نسته، البته که چیري امام په وخت دتکبیر تحریمه کي داسي ووایي نو باك نسته.

داذان دکمولو په وخت مؤذن او اوریدونکو ته سلام اچول څنګه دي؟ سوال: (۱۹۶) په حالت داذان کي مؤذن او اوریدونکو ته سلام اچول څنګه دی؟

جواب: په حالت داذان کي مؤذن ته سلام اچول مکروه دی، او دهغه په ذمه جواب ورکول

([1]) ویجعل ندبا اصبعیه في صماخ اذنیه فاذانه بدونه حسن وبه احسن (درمختار) لقوله ﷺ لبلال رضي الله عنه اجعل اصبعیك في اذنیه فانه ارفع لصوتك (ردالمحتار، باب الاذان ج۱ ص۳۲۰، ط.س. ج۱ ص۳۸۸). ظفیر

([2]) وفي العالمګیر یة ج۱، باب الاذان: والضابطة عندنا ان کل فرض اداءً کان او قضاءً یوذن له ویقام سواء اداه منفردا او بجماعة الا الظهر یوم الجمعة في المصر الخ وان قضوها بعد الوقت قضوها في غیر ذلك المسجد باذان واقامة الخ ولیس علی النساء اذان ولا اقامة وفي الشامي ص۴۰۵ لو اذن لنفسه خافت الخ وفیه لا (یسن) فیما یقضی من الفوائت في مسجد الخ ص۴۰۹ بخلاف مصل ولو بجماعة في بیته بمصر او بقریة لها مسجد فلایکره ترکهما اذ اذان الحي یکفیه لان اذان المحلة واقامتها اذانه واقامته الخ وفیه ص ۵۹۰ تکره تحریما جماعة النساء. ظفیر

لازم نه دی، مگر که چیري په حالت داذان کي پرته له مؤذن خخه بل چاته سلام ورواچوي نو مکروه نه دی، کما في الشامي اول جلد: وحاصلها انه یأثم بالسلام علی المشغولین بالخطبة الخ او الاذان والاقامة (۱) فقط دستخط، (وهکذا في الکبیري للعلامة الحلبی رحمه الله ص۳۷۲ قال وفي التجنیس لایکره الکلام عند الاذان بالاجماع الخ، جمیل الرحمن)

داذان دپیل کیدلو څخه وروسته پاخانی یا داودس ماتي لپاره تلل څنګه دي؟ سوال: (۱۹۷) داذان دپیل کیدلو وروسته لوی اودس ماتي یا کوچني اودس ماتي ته تلل صحیح دی اوکه داذان دپای ته رسیدلو وروسته ولاړ سي؟ اوکه ډیر سخت تنګ وي نوبیا څه حکم دی؟

جواب: که چیري ډیره اړتیا وي نو سمدستي دي پوره کړي، داذان دختمیدلو انتظار دي نه کوي اوکه چیري ډیره اړتیا نه وي نوبهتره ده چي تراذان وروسته یي پوره کړي. (۲)

الباب الثالث في شروط الصّلوة

اول فصل طهارت

چي دشمشتی دهډوکي طلا ولګوي نو لمونځ کول څنګه دي؟ سوال: (۱۹۸) که دشمشتیٖ دهډوکي طلا پر بدن ولګوي نو لمونځ یي کیږي اوکه نه؟

جواب: ښکاره خبره دا ده چي دشمشتیٖ دهډوکی طلا پر بدن ولګوي نو لمونځ کول جایز دي، لمونځ یي فاسد یا مکروه کیږي نه، ځکه چي دهغي هډوکي پاك دي که څه هم دهغي غوښه خوړلو ته حلاله نه ده (۳). فقط

په کومو واښو باندي چي ماکول اللحم څناور لویي یا وړي متیازي وکړي په هغو باندي لمونځ صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۱۹۹) که غوایانو یا خرو دغنمو ددرمند په وخت په پریکړل سوو وښو باندي متیازي یا ګندګي کړي وي نو په هغو وښو باندي لمونځ کول جایز دی اوکه نه؟

جواب: دهغو دپاکولو په اړوند فقهاؤ دا لیکلي دي چي دهغو څخه دي یوه برخه بیله کړل

---

(۱) ردالمحتارباب مایفسدالصلوة مطلب الموضع التي لایجب فیها ردالسلام ص۵۷۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۶۱۸. ظ

(۲) ویندب القیام عند سماع الاذان بزازیه (ردالمحتار) قال الشارح لم اره فیها فلتراجع نسخة اخری نعم رایت فیها سمع وهو یمشي فالافضل ان یقف للاجابة لیکون في مکان واحد (ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص۳۶۹، ط.س. ج۱ ص۳۹۷). جمیل الرحمن

(۳) شعر المیتة الخ وعظمها الخ وکذا کل ما لاتحله الحیاة الخ طاهر (باب المیاه ص۱۹۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۰۶ الدر المختار علی هامش ردالمحتار). ظفیر

سي، نو په دي صورت کي به دواړي حصي پاکي ګڼل کيږي يعني پاته سوي هم او هغه هم چي بيله کړل سويده، په درمختار کي راغلي دي: كما لو بال حمر خصها لتغليظ بولها اتفاقاً على نحو حنطة تدوسها فقسم او غسل بعضه او ذهب بهبة او اكل اوبيع كما مر حيث يطهر الباقي وكذا الذاهب لاحتمال وقوع النجس في كل طرف كمسئلة الثوب ([1]) الخ. فقط

دناپاکو تيلو دمالش څخه وروسة لمونځ کول جايز دي اوکه نه؟ **سوال**: (۲۰۰) زيد دلسو مياشتو راهيسي ددبير بوټي تيل دباه دقوت لپاره استعمالوي او پرته دمينځلو څخه يي پنځه وخته لمونځ کوي، ايا دده لمونځ جايز دی اوکه نه؟ او تداوي بالحرام جايز ده اوکه نه؟ او دځمکي حشرات هم په دي کي داخل دي اوکه نه؟

جواب: تداوي بالمحرم داړتيا په مهال دشرائطو سره صحت لري، كما في الشامي يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوي اذ اخبره طبيب مسلم ان فيه شفاء ولم يجد من المباح مايقوم مقامه ([2]) الخ او په تداوي بالمحرم کي ځمکني حشرات هم داخل دي، لقوله تعالى: (ويحرم عليهم الخبائث)، او همدا وجه دحرمت ددي حشراتو ده، او نجس کيدل او نه کيدل دبهيدونکو وينو تر لرلو پوري اړه لري، نوکه چيري په بير بوټي کي بهيدونکيويني وی نو دمرګ څخه وروسته هغه نجسه ده او دهغي تيل هم نجس دي دهغي دمينځلو څخه وروسته لمونځ کول په کار دي، اوکم لمونځونه چي پرته له مينځلو څخه سوي دي دهغو راګرځول لازم دي او دا خبري دفقهي په کتابونو کي په تفصيل سره ذکر دي. فقط

په بازاري لټه اوململ کی لمونځ صحيح دي؟ **سوال**: (۲۰۱) ململ او لټها چي موږ يي دبازار څخه اخلو او اغوندو يي په هغي کي لمونځ صحيح دی اوکه نه؟

جواب: په دغه کالو کي لمونځ کول صحيح دي. ([3]) فقط

ددرهم دمقدار څخه دکم رطوبت سره لمونځ صحيح دي؟ **سوال**: (۲۰۲-۱) که چيري پرتوګ وروسته له وطي څخه بالفور وتړل سي نو دهغه سره لمونځ صحيح دی اوکه نه؟

([1]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الانجاس ص۳۰۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۰۸. ظفير

([2]) ردالمحتار، كتاب البيوع باب المتفرقات مطلب في التداوي بالمحرم ص۲۹۸ ج۴، ط.س. ج۵ ص۲۲۸. ظ

([3]) ځکه چي دا کالي پاک دي او ددي اغوستل جايز دي ولوشك في نجاسة ماء او ثوب الخ لم يعتبر (درمختار) من شك في اناه وثوبه اصابته نجاسة اولا فهو طاهر ما لم يستيقن الخ وكذا مايتخذه اهل الشرك او الجهلة من المسلمين كالسمن والخبز والاطعمة والثياب (ردالمحتار كتاب الطهارة قبيل ابحاث الغسل ص۱۴۰ ج۱، ط. س. ج۱ ص۱۵۱) بيا دفقهاوو مسلمه قاعده ده: اليقين لايزول بالشك (الإشباه والنظائر ص۷۵). ظفير

په مذي باندي په ككړو كالو كي لمونځ كول صحت لري اوكه نه؟ سوال: (۲۰۳-۲) پركمو كالو چي مذي ولګيږي دهغو سره لمونځ صحيح دی اوكه نه؟

جواب: (۱) كه چيري دپرتوګ رطوبت ددرهم داندازي څخه زيات نه وي نو پاك دی لمونځ ورسره صحيح دی مګر مينځل ددرهم په مقدار هم اړين دي ولي چي باقي ساتل دهغه مكروهه دی. (۱)

(۲) مذي نجس دي، په كومو كالو چي مذي ولګيږي هغه پليت دي دهغو سره لمونځ كول صحيح نه دی (۲) او ددرهم مقدار په دي كي هم معاف دی مګر مينځل ددي هم اړين دي، په درمختار كي راغلي دي: وعفى الشارع عن قدر درهم وان كره تحريما فيجب غسله وما دونه تنزيها فيسن. (۳) فقط

پر پلاله باندي لمونځ: سوال: (۲۰۴) دژمي په ورځو كي اكثره دپلالي فرش غوړوي پرهغه باندي لمونځ جايز دی اوكه نه؟

جواب: كه چيري پاك وي نو جايز دی. (۴) فقط

كم پزى چي چميارانو جوړكړي وي پرهغه باندي لمونځ جايز دی اوكه نه؟ سوال: (۲۰۵) په دي زمانه كي صفونه، پوړونه، پوزي او داسي نور ددي ځای چمياران تياروي پرته دپاكولو څخه په هغه باندي لمونځ جايز دی اوكه نه؟

جواب: هغه پوړونه او صفونه پاك دي پرهغو باندي لمونځ صحيح دی هيڅ وهم كول په كار نه دی: لان اليقين لايزول بالشك فقط (ولوشك في نجاسة ماء او ثوب الخ لم يعتبر (درمختار) من شك في انائه وثوبه او بدنه اصابته نجاسة اولا فهو طاهر الخ وكذا ما يتخذه اهل الشرك او الجهلة من المسلمين كالسمن والخبز والأطعمة والثياب. ردالمحتار كتاب الطهارة فبيل ابحاث الغسل، ظفير). فقط

---

(۱) وعفى الشارع عن قدر درهم وان كره تحريما فيجب غسله وما دونه تنزيها فيسن وفوقه مبطل فيفرض (درمختار) قوله وان كره تحريما اشار الى العفو عنه بالنسبة الى صحة الصلاة به فلا ينافي الاثم الخ لكن قال بعده والاقرب ان غسل الدرهم وما دونه مستحب مع العلم به والقدرة على غسله فتركه حينئذ خلاف الاولى نعم الدرهم غسله آكد الخ ففي المحيط يكره ان يصلي ومعه قدر درهم او دونه من النجاسة عالما به الخ (ردالمحتار باب الانجاس ص۲۹۱ - ۲۹۲، ط.س. ج۱ ص۳۱۲). ظفير

(۲) كل مايخرج من بدن الانسان مما يوجب خروجه الوضوء او الغسل فهو مغلظ كالغائط والبول والمني والمذي والودي والقيح والصديد (عالمګيري كشوري باب سابع فصل ثاني ص۴۴). ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الانجاس ص۲۹۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۱۲. ظفير

(۴) ثم الشرط لغة العلامة اللازمة وشرعا يتوقف عليه الشيئ ولايدخل فيه هي ستة طهارة بدنه الخ وثوبه الخ ومكانه الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب شرط الصلوة ص۳۷۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۲). ظفير

په کوټ اوپتلون کی لمونځ کیږي اوکه نه؟ سوال: (۲۰۲) آیا دکوټ او پتلون سره لمونځ کیږي؟

جواب: که چیري دا کالي پاك وي نو لمونځ کیږي (۱) او اغوستل ددي کالو ممنوع دي دتشبه په وجه. فقط

دمځکی دحشراتو دتیلو دلګولو څخه وروسته لمونځ جایز دی اوکه نه؟ سوال: (۲۰۷) دلاندي یادو سوو ځناورو تیل نجس دي او که نه؟ که چیري نجس وي نو مغلظه دي اوکه خفیفه؟ که چیري سړی دغه تیل دعلاج په غرض دبدن پریوه حصه مالش کړي نو شرعاً جایز دي اوکه نه؟ او دلمانځه څخه مانع دی اوکه نه؟ پرته دبدن دمینځلو څخه لمونځ کولای سي او که نه؟ روغن خراطین برساتي، روغن بیر بهوټي.

جواب: دځمکي ددي حشراتو ځناورو تیل نجس مغلظه دي استعمال ددي صحیح نه دی (۲) البته ددرملني دضرورت په مهال که چیري مسلمان حاذق طبیب دا تجویز کړي او بله دوایي پاکه او حلاله ددوی ځای نیوونکي نه وي نوهغه مهال یي استعمال صحیح دی (۳) اوکله چي دا نجاست غلیظه وي نو دیوه درهم تر مقداره پوري معاف دي لمونځ ورسره کیږي

که څه هم بهتر مینځل یې وکړي، اوکه ددرهم دمقدار څخه زیات وي نو مینځل او پاکول یې اړین دي که نه نو لمونځ به نه کیږي، په در مختارکي راغلي دي: وعفا الشارع عن قدر درهم (۴) الخ. فقط

په غسل خانه کی لمونځ جایز دی او که نه؟ سوال: (۲۰۸) په حمام کي لمونځ جایز دی او که نه؟

جواب: په حمام کي لمونځ په دوو وجو مکروه دی (۵) یو داچي حمام دغسل ځای دی چي

---

(۱) طهارة بدنه الخ وثوبه (درمختار) اراد مالابس البدن فدخل القلنسوة والخف (ردالمحتار، باب شروط الصلوة ص۳۷۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۲). ظفیر

(۲) ولا یحل ذوناب الخ ولا الحشرات هي مغار دواب الارض (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الذبائح جلدپنجم ص۳۲۵، ط.س. ج۱ ص۳۰۴). ظفیر

(۳) وقیل یرخص اذا علم فیه الشفاء ولم یعلم دواء اخر کما رخص الخمر للعطشان وعلیه الفتوی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المیاه مطلب في التداوي بالمحرم ج۱ ص۱۹۴). ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الانجاس جلد اول ص۲۹۱، ظفیر، دبدن پاکوالی دلمونځ کوونکی لپاره شرط دی وطهارة بدنه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ص۳۷۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۲). ظفیر

(۵) وکذا تکره في اماکن فوق کعبة وفي طریق الخ ومغتسل وحمام (الدر المختار علی هامش ردالمحتار =

دشیطانانو کور دی، قال: العلامة نجم الدين الطرسوسي في منظومة الفوائد فقال: نهي الرسول احمد خير البشر * عن الصلوة في بقاع تعتبر * معاطى الجمال ثم مقبره * مزبلة طريق ثم مجزره * وفوق بيت الله والحمام * والحمد لله على الطعام (۱). فقط

په غير مفتٰى به قول باندي پرته ؟ه غسله دلمونځ حکم؟ سوال: (۲۰۹) دزياتي مودي راهيسي يوه مسئله راپيښه ده او په هيڅ ډول سره حل نه سوه، زه اميد لرم چي جناب به يي ضرور بالضرور حل کړي، زه په لږه اندازه عبارت دفتاوی عالمګيري جلد اول ص۱۸ نقل کوم، چي په هغه سره به مسئوله صورت په ښه ډول څرګند سي، دعالمګيري فتاوی عبارت لاندي ليکل سوی دی، يو سړي ته احتلام وسو يا يي ديوي ښځي لوري ته وکتل او مني دخپل ځای څخه په شهوت سره بيل سوه، بيا يي خپل ذکر دباو کړو تر دي پوري چي شهوت دهغه ساکن سو، بيا مني وبهيدل نو په دي باندي به دامام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزدغسل واجبيږي او دامام ابويوسف رحمه الله په نزد به نه واجبيږي (داپه خلاصه کي دي) اوس دا صورت دی چي يو سړي ته احتلام وسو او مني دخپل ځای څخه په شهوت سره ببل سوه نو هغه خپل ذکر دباو کړی تر دي پوري چي شهوت سوړ سو، او بيا مني وبهيدل، کله چي دياد کړل سوي کس سره دمخکي څخه داعلم وو چي په داسي صورت کي غسل نه واجبيږي ددي لپاره هغه غسل ونه کړی او پرته دغسل څخه به يي لمونځ کوی او څو ځلي داسي واقعه پيښه سوه او هيڅکله يي هم غسل ونکړی اودا هغه محض دخپلي غلطي پوهي په وجه داسي وکړل نو کله چي ده ته څرګنده سوه چي ما سخته غلطی کړيده نو هغه ډير پښيمانه دی، اوس دپوښتني خبره داده، چي ايا ياد سوي شخص چي څومره لمونځونه په دي صورت کي کړيدي هغه ادا سول اوکه نه؟ او که چيري نه وي ادا سوي نو دهغو دادا کولو څه صورت کيدای سي او موصوف کس ددي فعل په کولو سره ګناهګار سو او که نه؟ اوکه چيري ګناه ګار سوی وي نو دکمي درجي؟

جواب: کله چي په دي مسئله کي دامام ابو يوسف رحمه الله اختلاف دی او ډيرو حنفي مشائخو رحمهم الله تعالی همدا قول مفتی به ليکلی دی (که څه هم دمحقيقينو رايه دا نه ده) بيا هم کم فعل چي ياد سوي کس دقول مختار څخه دناواقف کيدلو په وجي سره وکړی او په هغه باندي اوس پښيمانه هم دی او په نفس مسئله کي څه ګنجايش هم سته

= کتاب الصلوة جلد أول ص۳۵۲ – ۳۵۳، ط.س. ج۱ ص۳۷۹). ظفير

(۱) على هامش ردالمحتار کتاب الصلوة جلداول ص۳۵۲. ظفير

ددي وجي دحق تعالی شانه درحمت څخه ددرګذر امید دی، باقي کم لمونځونه چي هغه په دي حالت کي کړي دي دهغه متعلق دائمه ؤ رحمهم الله اختلاف دی، اوپر اختلاف دمشائخو مرجحینو باندي دنظر کولو څخه وروسته دامام قاضي خان رحمة الله علیه داقول دی: ویوخذ بقول ابي یوسف في صلوة ماضیة فلا تعاد وفي مستقبلة لایصلي ما لم یغتسل آھ ردالمحتار (۱) ص۱۱۹ جلد اول، مګر بیاهم احتیاط همدادی چي دهغو لمونځونو قضا راوګرځوي ځکه چي دمحققینو په نزد دامام ابوحنیفه او امام محمد (رضی الله عنهما) قول مختار دی (۲). والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب. فقط

دداغ په لیدلو سره لمونځ کول څنګه دي؟ **سوال:** (۲۱۰) که چیري پرپرتوګ باندي داغ راته ښکاره سي او خوب راته یاد نه وی او زما دتمباکو دوکان دی کیدای سي چي دتمباکو داغ ورباندي لګیدلی وي، غرض دا چي په دغه داغ سره مي برابر تر یوي هفتي پوري لمونځ وکړی، دا دجمعي دلمانځه څخه مخکي دکالو دبدلولو په وخت کي راته ښکاره سوه، له هغه وروسته ولمبیدم او کالي مي بدل کړل نو ددغي هفتي لمونځ وسو او که نه؟

جواب: که چیري دا یقیني وي چي دغه داغ دمني دی نو ددي څخه مخکي چي اخري ځل بیده سوی وي دهغه څخه وروسته لمونځونه راګرځول په کار دي مثلاً دشپي بیده سوی وو او دورځي یي دماپښین څخه مخکي داغ ولیدی نو دسهار لمونځ دي راوګرځوي اوکه چیري یې دماپښین څخه وروسته لیدلی وي نو دماپښین لمونځ دي هم راوګرځوي، او که چیري دهغه مني کیدل یقیني نه وي بلکي دا هم شبهه وي چي شاید دبل شي داغ وي نو بیا دهیڅ یوه لمونځ راګرځول هم لازم نه دی. (۳)

په ناپاکو کالو کي لمونځ نه کیږي: **سوال:** (۲۱۱) دهندي په غیرکي تی رودونکی ماشوم دی چي دهغه په وجي سره دهغي کالي هروخت ناپاکه وي نو په داسي حالت کي هنده د

---

(۱) ردالمحتار ابحاث الغسل جلد اول ص۱۴۹، ط.س. ج۱ ص۱۲۱. ظفیر

(۲) وفرض الغسل عند خروج مني من العضو والا فلا یفرض اتفاقا الخ منفصل عن مقره الخ بشهوة الخ ولانه لیس بشرط عندهما خلافا للثاني وبقوله یفتي الخ (درمختار) لکن اکثر الکتب علی خلافه حتی البحر والنهر ولا سیما قد ذکروا ان قوله قیاس وقولهما استحسان وانه الاحوط فینبغي الافتاء بقوله في مواضع الضرورة فقط (ردالمحتار ابحاث الغسل ص ۱۴۸ - ۱۴۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۹). ظفیر

(۳) فرض الغسل الخ عند رؤیة مستیقظ الخ منیا اومذیا وان لم یتذکر الاحتلام الا اذا علم انه مذي او شك انه مذی او ودي اوکان ذکره منتشرا قبیل النوم فلا غسل علیه الخ او تیقن انه مني او تذکر حلما فعلیه الغسل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۵۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۰ - ۱۲۳). ظفیر

ناپاکو کالو سره لمونځ کولای سي اوکه نه؟

جواب: پاك كالي دي واغوندي يا دي ناپاكه ومينځي او لمونځ دي وکړي دناپاکو کالو سره يي لمونځ نه کيږي ([1]). فقط

په زندان کی دقیار کړل سوي جاي نماز کارول صحیح دي؟ سوال: (۲۱۲) دزندان څخه پراخيستل سوی جاینماز باندي لمونځ کيدای سي اوکه نه چي زندانيان يي په لاس جوړوي؟

جواب: جايزدی. ([2]) فقط

آیا په نویو کالو کی لمونځ صحیح دي؟ سوال: (۲۱۳) په نويو کالو کي (چي اوبه وربانديي نه وي لګيدلي) لمونځ جايز دی او که نه؟

جواب: په نويو کالو کي پرته له وينځلو لمونځ جايز دی ([3]) (ځکه چي دا پاك دي په دي سلسله کي دشك هيڅ اعتبار نسته، په درمختار کي راغلي دي: ولوشك في نجاسة ماء او ثوب الخ لم يعتبر، شامي جلد اول ص۱۴۰، ظفير)

ناپاکه وړين کالي پرته له مينځلو نه پاکيږي اوپه داسي کالوکي لمونځ جايز دی اوکه نه؟

سوال: (۲۱۴) پروړين كالي باندي که چيري ګندګي او داسي نور څه ولګيږي او وچه سي اوپه خپله ورژيږي يا په متيازو يا يوبل شي لوند سي او وچ سي نو په دغه کالو باندي پرته له پاکولو لمونځ جايز دی او که نه؟

جواب: دغه کالي به پرته له وينځلو څخه پاك نه سي، ددي کالو دري ځله مينځل ښايي ([4]). فقط (او ترڅو پوري چي هغه پاك سوي نه وي لمونځ ورسره جائز نه دی. ظفير)

([1]) ثم الشرط الخ شرعا مايتوقف عليه الشيئ ولايد خل فيه هي ستة طهارة بدنه اي جسده الخ وثوبه (الدر المختار على هامش ردالمحتار، باب شروط الصلوة ص۳۷۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۲). ظفير

([2]) ځکه چي پاك دي: اليقين لايزول بالشك (الاشباه والنظائر ص۷۵) دغير مسلم يا جاهل مسلمان دلاس جوړ کالي او بل شي پاك دي، بيا دا اصول دي چي ديو شي په ناپاکوالي کي شك وي نو دهغه اعتبار نسته، لوشك في نجاسة ماء اوثوب الخ لم يعتبر وتمامه في الاشباه (درمختار) في التتارخانية من شك في انائه او ثوبه او بدنه اصابته نجاسة اولا فهو طاهر الخ، وكذا مايتخذه اهل الشرك او الجهلة من المسلمين كالسمن والخبز والاطعمة والثياب آهـ ملخصاً (ردالمحتار قبيل ابحاث الغسل ص۱۴۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۱). ظفير

([3]) اليقين لايزول بالشك (الاشباه والنظائر ص۱۷۵). ظفير

([4]) وازالتها ان كانت مرئية بازالة عينها واثره ان كانت شيئا يزول اثره الخ وان كانت غير مرئية يغسلها ثلث مرات ويشترط العصر في كل مرة فيما ينعصر الخ (عالمگيري كشوری کتاب الطهارت باب سابع فصل اول في تطهير الانجاس ص۴۰ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۴۱). ظفير

پښې لڅې ګرځېدونکې پرته له پښو مينځلو لمونځ کولای سي: سوال: (۲۱۵) که چيري يو سړی داودس کولو څخه وروسته تر يوه يا تردوو ميلو پوري پښې لڅې ولاړ سي، او بيا دپښو دمينځلو لپاره اوبه پيدا نه سي نو دپښو څنډلو څخه وروسته په لمونځ کولو سره به لمونځ وسي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي چي پښې وڅنډی او پاکي يي کړي او لمونځ وکړي نو لمونځ کيږي. (۱)

که له استنجا پرته لمونځ وکړي نو وسو اوکه نه؟ سوال: (۲۱۶) يوه سړي له ډکو او تشو متيازو وروسته استنجا ونه کړه اودس يي وکړی او لمونځ يي وکړی وروسته ور په ياد سوه نو لمونځ يي وسو اوکه نه؟ او يا داودس څخه وروسته ورته په ياد سوه نو هغه ته اودس بيا کول په کار دی اوکه نه؟

جواب: که چيري يي په لوټو سره استنجا وهلي وه او نجاست دمخرج څخه ددرهم په اندازه متجاوز نه وو نو په اوبو سره له استنجا کولو پرته دهغه لمونځ وسو. (۲) فقط

پرپاک کټ باندي لمونځ جايز دي: سوال: (۲۱۷) تندرست سړي ته پرکټ باندي لمونځ جايز دی اوکه نه؟ لمونځ يې کيږي اوکه نه؟ زيد وايي چي څنګه پرتخت باندي لمونځ جايز دی په کټ باندي هم جايز دی، بکر وايي چي ترننه پوري مي نه په کم کتاب کي ليدلي دي او نه دعلماوو داقوالو څخه ثابت دي نه مي پرته له معذورو څخه څوک پرکټ پرلمانځه ليدلي دي، په دي صورت کي شرعاً څه حکم دی؟

جواب: پرکټ باندي لمونځ صحيح دی او کټ په ډول دتخت دی، ولي چي کله زنګنونه اول پرکټ باندي کيښودل سي نو دمخ څخه به لا دسجدي ځای راکش کړل سي او سخت

---

(۱) وطين شارع الخ عفو (درمختار) وفي الفيض طين الشوارع عفو وان ملا الثوب للضوورة ولومختلطا بالعذرات وتجوز الصلوة معه (ردالمحتار باب الانجاس ص۲۹۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۲۴) اوپه صورت مسئول کي خو دنجاست بيخي سوال نسته محضي شك او وهم دي او دفقهاوو اصول دي چي: اليقين لايزول بالشك (الاشباه، ص۷۵). ظفير

(۲) وعفى الشارع عن قدر درهم وان كره تحريما فيجب غسله وما دونه تنزيها فيسن وفوقه مبطل فيفرض (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الانجاس ص۲۹۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۱۲) ذكر في الذخيرة اذا كانت النجاسة في موضع الاستنجاء اكثر من قدر الدرهم فاستجمر اي استنجي بثلثة احجار وانقاه اي موضع الاستنجاء ولم يغسله بالماء قال الفقيه ابو الليث في فتاويه يجزيه يعني من غير كراهة وكان الغسل افضل قال صاحب الذخيرة وبه اي بما قال أبو الليث ناخذ وفي هذا اشارة الى ان البعض يخالف في ذلك ولا اعلم فيه مخالف الخ وهذا اذا كانت تلك النجاسة ما خرج من الحدث المعتاد ولم تصبه من الخارج (غنية المستملي ص۱۸۹). ظفير

به سي نو دتخت په ډول به سي بيابه په سجده کي هيڅ تکليف نه وي، اوپرکټ باندي دلمونځ کولو عادت په دي وجه هم نسته چي دکټونو اعتبار نه وي اکثر ناپاکه وي، مګر کله چي پاك وي نو بيا هيڅ تکليف نسته. (۱) فقط

دډمي دبالاخانې په لاندي ځاى کي لمونځ صحيح دى اوکه نه؟ سوال: (۲۱۸) يو سراى دسرکار جيذ دى هغه په يووجه سره يوډ ډمي ته ورکړى، کله چي وغواړي ضبط به يې کړي، دهغه لاندي دوکانونه دي هغه خلګو په کرايه باندي نيولي دي په هغوکي لمونځ کول صحيح دى که نه؟

جواب: په ذکر سوي مکان کي لمونځ کول صحيح دى لمونځ کيږي (۲) مګر بهتره دا ده چي په جومات کي لمونځ وکړي. (۳) فقط

په ناپاکو کالو کى دلمانځه حکم: **سوال:** (۲۱۹) که چيري دامام پرکالو تى رودونکي ماشوم زياتي بولي کړي وي او دهغو کالو سره يي په هيره لمونځ کړى وي نولمونځ يي وسو او که نه؟

جواب: په دي صورت کي دلمانځه راګرځول په کار دي. (۴) فقط

له جماع څخه وروسته يې کالي بدل نه کړل او لمونځ يې وکړى نو وسو اوکه نه؟ سوال: (۲۲۰-۱) که چيري څوك دجماع څخه وروسته غسل وکړي او کالي يې بالکل بدل نه کړل يايي يواځي لنګ بدل کړى اونورکالي يي بدل نکړل نو لمونځ يي صحيح دى که نه؟

دروغتون کاريګران لمونځ څنګه وکړي؟ سوال: (۲۲۱-۲) يوسړى په روغتون کي ملازم دى

---

(۱) لو سجد على الحشيش او التبن الخ ان استقر جبهته وانفه ويجد حجمه يجوز (عالمګيري کشورى ص۲۹ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۷۰) اما شرائط اركان الصلوة فمنها الطهارة بنوعيها من الحقيقية والحكمية والطهارة الحقيقية هي طهارة الثوب والبدن ومكان الصلوة عن النجاسة الحقيقية (بدائع الصنائع شرائط الاركان ص۱۱۴ ج۱). ظفير

(۲) په دغه ځاى کي څه شرعي قباحت نسته، والله اعلم. ظفير

(۳) فرض لمونځ په جومات کي په جمعه سره ادا کول سنتِ موکد دى، والجماعة سنة موكدة للرجال الخ ولو فاته ندب طلبها مسجد اخر الا المسجد الحرام (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص۵۱۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۵۲). ظفير

(۴) هي (اي شروط الصلوة) ستة طهارة بدنه الى قوله وثوبه (درالمختار ط.س. ج۱ ص۴۰۲) النجاسة ان كانت غليظة وهي اكثر من قدر الدرهم فغسلها فريضة والصلوة فيها باطلة وان كانت مقدار درهم فغسلها واجب الخ (عالمګيري کشورى ص۵۹ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۵۸) واذا ظهر حدث امامه وكذا كل مفسد في رأي مقتد بطلت فيلزم اعادتها الخ كما يلزم للامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او ركن (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص۵۵۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۹۱). ظفير

او هر وخت ناپاكو دوايانو او سړيانو ته لاس ور وړي اوهر وخت يي پركالو باندي څاڅكي لګيږي بيا وچ سي، او ځيني دواياني داسي دي چي هغو ته لاس وروړل مذهبا حرام دي، نو لمونځ څنګه ادا كړي، غسل به كوي او كالي به بدلوي اوكه يي په همدغه حالت كي وكړي؟

جواب: (۱) كله چي يي ناپاكه كالي بدل كړل اوغسل يي وكى نولمونځ يي صحيح دى (۱).

(۲) دناپاكو كالو دبدلولو او دپاكو كالو داغوستلو څخه وروسته لمونځ كول په كار دى. (۲) فقط

په ناپاكو كالو كى لمونځ نه كيږي: **سوال**: (۲۲۲) كه چيري يو سړى وروسته دځلويښتو كالو څخه كله ناكله دتقطير البول په مرض اخته سي نودى په اندازه ديوه درهم دبولو ددفع كولو لپاره يوه لاندينى ټوټه كاروي چي هغه ځيني وخت په بولو باندي ككړه سي نو بيا ترهغي لاندينى ټوټي لاندي يوه بله ټوټه ولګوي نو لمونځ ورسره جايز دى اوكه نه؟

جواب: كه چيري ځرګنده او معلومه وي چي لاندينى ټوټه دبولو دڅاڅكو څخه ديوه درهم ترمقدار ډيره ككړه ده نو لمونځ صحيح نه دى اوكه داسي نه وي بيا جائزدى. (۳) فقط

دوهم فصل: **دعورت پټوالى**

ايا په لڅو پښو سره دښځي لمونځ نه كيږي؟ **سوال**: (۲۲۳) په صلوة الرحمن كتاب كي ليكلي دي چي كه دلمانځه په وخت دښځي دپښو ځلورمه برخه ښكاره سي نو لمونځ به يي نه كيږي نوايا ښځو ته په كار دي چي موزي په پښو كړي؟

جواب: په الدر المختاركي يي ليكلي دي چي معتمده خبره داده چي دښځي دواړي پښي

---

(۱) دجماع په وخت كي چي په كومو كالو باندي ناپاكي ولګيږي هماغه پليتيږي، دبدن ټول كالي نه پليتيږي په دي خاطر اړتيا دهغو كالو بدلولو ته پيدا كيږي چي پرهغو باندي پليتي لګيدلي وي البته دجماع څخه وروسته حكما ټول بدن ناپاكه كيږي او غسل فرض كيږي، وفرض الغسل الخ عند ايلاج حشفة هي ما فوق الختان ادعي الخ في احد سبيلي ادمي حي فجامع مثله الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ابحاث الغسل ص۱۴۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص۱۵۹) الشرط الخ شرعاً مايتوقف عليه الشيئ ولايدخل فيه هي ستة طهارة بدنه اي جسده الخ من حدث بنوعيه الخ وخبث مانع كذالك وثوبه الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ص۳۷۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۲). ظفير

(۲) ايضا، ط.س. ج۱ ص۴۰۲. ظفير

(۳) وعفى الشارع عن قدم درهم وان كره تحريما فيجب غسله ومادونه تنزيها فليسن وفوق مبطل (درمختار) ففي المحيط يكره ان يصلي ومعه قدر درهم او دونه من النجاسة عالمابه لاختلاف الناس فيه (ردالمحتار باب الانجاس ص۲۹۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۱۲). ظفير

عورت نه دي، دهغو په لڅيدو سره په لمانځه كي خلل نه راځي، اوچي په صلوة الرحمن كي يي ليكلي دي داهم يو قول دی او ددي څخه دقدم باطن مراد دی دپښي ښكاره كيدل نه دي مراد، كذا في الشامي ص۴۲۱ ج۱. (۱) فقط

ايا ښځه دي دپښو دپټولو لپاره موزی په پښو كړی؟ سوال: (۲۲۴) دښځي ټول بدن پټول فرض دی پرته دمخ او ددواړو خپرو دلاسونو او ددواړو پښو څخه، نو په لمانځه كي دلاسونو شا او دپښو تلي هم پټول په كار دي ددي لپاره دموزو او ددست كلو (دست كشو) په لاس كولو اړتيا سته او كه نه؟

جواب: ددواړو پښو او ددواړو لاسونو ظهر او بطن په لمانځه كي پټول ضروري نه دي (۲). فقط والله تعالى اعلم، كتبه عزيز الرحمن.

په ساړي وهلو سره لمونځ صحيح دی؟ سوال: (۲۲۵) چي دهندوانو په ډول ساړي وتړي نو لمونځ پكښي كيږي اوكه نه؟

جواب: كه چيري كشف عورت نه كيږي نو لمونځ كيږي، خو دا طريقه ښه نه ده (۳). فقط

دښځو لمونځ په ساړي كي جايز دی اوكه نه؟ سوال: (۲۲۶) دښځو لمونځ په ساړي يعني لنګ كي كيږي اوكه نه؟

جواب: كه چيري دهمدغه ځای رواج دښځو لباس همدا وي نو په دي كي هيڅ تكليف نسته لمونځ يي كيږي البته دا اړينه ده چي ستر پوره په كار دی. (۴) فقط

چي په جانګي باندي لنګ وتړي او لمونځ كوي نو صحيح دی اوكه نه؟ سوال: (۲۲۷) كه چيري يو سړی دسمال ياجانګی وتړي او پرهغه سربيره لنګ يا پرتوګ واغوندي او

---

(۱) وللحرة ولو خنثى جميع بدنها الخ خلا الوجه والكفين الخ والقدمين على المعتمد (درمختار) اي من اقوال ثلاثة مصححة ثانيها عورة مطلقا، ثالثها عورة خارج الصلوة لا فيها، اقول ولم يتعرض لظهر القدم وفي القهستاني عن الخلاصة اختلفت الروايات في بطن القدم اه وظاهره انه لاخلاف فی ظاهره، ثم رأيت في مقدمة المحقق ابن الهمام المسماة بزاد الفقير قال بعد تصحيح ان انكشاف ربع القدم مانع ولو انكشاف ظهر قدمها لم تفسد الخ ثم نقل عن الخلاصة ان الخلاف انما هو نفي باطن القدم واما ظاهره فليس بعورة بلا خلاف الخ (ردالمحتار باب شروط الصلوة مطلب ستر العورة ص۳۷۶ – ۳۷۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۵). ظفير

(۲) وهي اي العورة للرجل ماتحت سرته الى ماتحت ركبة الخ وللحرة ولو خنثى جمهع بدنها الخ خلا الوجه والكفين الخ والقدمين على المعتمد (الدر المختار على هامش ردالمحتار ط.س. ج۱ ص۴۰۴). ظفير

(۳) والرابع ستر عورته الخ وهي للرجل ماتحت سرته الى ماتحت ركبته الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ص۴۷۴ – ۴۷۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۴). ظفير

(۴) والرابع ستر عورته ووجوبه عام ولو في الصلوة على الصحيح الا لفرض صحيح (درمختار) ووجوبه عام اي في الصلوة وخارجها الخ (ردالمحتار باب شروط الصلوة جلد اول ص۳۷۴ – ۳۷۵، ط.س. ج۱ ص۴۰۴). ظفير

لمونځ کوي نولمونځ به يي وسي اوکه نه؟ اوکه چيري دسمال او جانګی وتړي او پړهغه سربيره زنګوني يعني نيم پرتوګ واغوندي او پړهغه سربيره لنګ وتړي اولمونځ وکړي نو لمونځ به جايز وي اوکه نه؟

جواب: په دي صورتونو کي چي کله ستر عورت وسي لمونځ صحيح دی. (۱) فقط

په کالو کی ستر کيدل ضروري دي اوکه نه؟ **سوال**: (۲۲۸) دکالو په غلظت (پنډوالي) کي شرط څه دی که چيري دبدن صورت وليدل سي او دلونِ بشري (دځرمني رنګ) و نه ليدل سي نو لمونځ صحيح دی اوکه نه؟ که چيري درنګ په وجي سره ونه ليدل سي يا دپرتوګ دجوړولو په وجي سره و نه ليدل سي نوڅه حکم دی؟

جواب: کله چي دځرمني رنګ نه معلوميږي نو ستر ثابت دی او لمونځ صحيح دی (۲). فقط

فصل ثالث: استقبال قبله

دقبلی دسمت بحث: **سوال**: (۲۲۹-۱) دخورڃي څخه دکعبي عين سمت څه دی ايا علم هيئت او علم هندسه په شريعت کي دلحاظ وړده؟

سوال: (۲۳۰-۲) ايا قطب ته ديمين لوري په کتلو سره قبله دخورجه (مقام) څخه عين مغرب ته مخامخ ده؟

سوال: (۲۳۱-۳) آيا پورته ذکر سوي دقطب ذريعه دټول هندوستان لپاره عام او کلي اصول دی؟

سوال: (۲۳۲-۴) په خورجه کي که چيري اکثر جوماتونه په لوړه ذکر سوي طريقه باندي يا په يوه بله غلطه طريقه باندي تعمير سوي وي نو ايا نور نوي جوماتونه هم په همدي غلطه طريقه باندي په راتلونکي کي جوړ کړي، اطلاعا عرض خدمت دی چي يو څو جوماتونه په لاندي ذکر سوي طريقه باندي يعني دعلم هيئت او علم هندسي مطابق جوړ سوي دي: خورجه دعلم هيئت مطابق ۲۸ درجه شمال عرض البلد باندي واقع ده اومکه معظمه پر ۲۱ درجه ۴۰ لمحه عرض البلد باندي واقع ده په دي خاطر په دي طريقه باندي تقريبا ۷ درجي فرق دی اوپه دي اصول باندي ۷ درجي دمغرب او جنوب لوري ته

---

(۱) والرابع ستر عورته الخ وهي للرجل ماتحت سرته الى ماتحت ركبته (الدرالمختار على هامش ردالمحتار، باب شروط الصلوة جلد اول ص۳۷۴، ط.س. ج۱ ص۴۰۴). ظفير

(۲) وعادم ساتر لايصف ماتحته (درمختار) بان لايرى منه لون البشرة احترازا عن الرقيق ونحو الزجاج (ردالمحتار باب شووط الصلوة ص۳۸۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۹). ظفير

لمونځ کول په کار دي لکه څنګه چي يوڅو علماء کرامو پردي باندي فتوی ورکړي ده؟

سوال: (۲۳۳ - ۵) موږ ته عين قبله معلومول ضروري دي اوکه يوائې جهت دقبلي بس والی کوي؟

جواب: (۱) دقبلي په سمت او جهت کي شرعا ډير وسعت دی اودا اړينه نه ده چي دعين کعبي لوري ته دي استقبال وسي بلکي جهت دقبلي کافي دی اوپه دي کي هم په لږ اندازه انحراف سره يعني څه قدر رسته او چپ کيدو سره په استقبال قبله کي خلل نه راځي لکه څنګه چي په درمختار کي راغلي دي: ولغيره اي غير معاينها اصابة جهتها بان يبقي شيئ من سطح الوجه مسامتا للكعبة او لهوائها (۱) الخ او په شامي کي له قهستاني څخه منقول دي: ولا باس بالإنحراف انحرافا لاتزول به المقابلة بالكلية بان يبقي شيئ من سطح الوجه مسامتًا للكعبة (الی ان قال) وسياتي في المتن في مفسدات الصلوت انها تفسد بتحويل صدره عن القبلة بغير عذر فعلم ان الانحراف اليسير لا يضر وهو الذي يبقي معه الوجه اوشيئ من جوانبه مسامتا لعين الكعبة او لهوائها بان يخرج الخط من الوجه او من بعض جوانبه ويمر على الكعبة او هوائها مستقيما ولايلزم ان يكون الخط الخارج على استقامة خارجاً من جبهة المصلي بل منها او من جوانبها (۲) الخ، الحاصل کله چي (داخبره) ثابته سوه چي په معمولي مخ ګرځولو سره په استقبال قبله کي فرق نه راځي نو ددي څخه واضحه ده چي قطب شمال په جانب شمال ساتلو سره په لمونځ کولو کي استقبال قبله حاصليږي او جوماتونه چي په دي طريقي سره جوړ سوي دي هغه په صحيح لوري باندي دي په دي کي دزياتو باريکيو دلټولو اړتيا نسته ولي چي الات دسمت دقبلي معلومولو لپاره (هرځای) مهيا او ميسر نه دی، او بيا هغه هم ظني دي اوعامو خلګو ته ددي تکليف ورکول مشکل دي او پخواني جماتونه په دي باره کي حجت صحيحه دي او په هغوی کي تغير کول دلږ څه مخ اړولو دګمان په وجه مناسب نه دي او قطب شمال حجت ګڼل په دي باره کي داکابرو علماؤ واضح دليل ددي دصحت دی. فقط

<u>په ريل ګاډي کی په لمانځه کی دننه داستقبال قبلي بحث</u>: سوال: (۲۳۴) يو سړی چي په ريل کي سپور وي دقبلي څخه دريل دالواحو دتحويل له امله که چيري قبلي ته مخامخ کيږي او لمونځ کوي، نو دلمانځه ارکان لکه قيام قعود رکوع پر ده سخت او مشکل

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة استقبال قبله ص۳۹۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۲۸. ظ

(۲) ردالمحتار باب شروط الصلوة مبحث في استقبال القبلة ص۳۹۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۲۹. ظفير

ګرځي، اوکه قیام قعود اورکوع سم کوي نو دقبلي مخامخ توب ورځخه پاته کیږي نو په دي صورت کي کم فرض پریږدي؟ اوپه کمه طریقه باندي عمل وکړي، یعني دقبلي ځخه محول سي. اوبل لوري ته مستقبل سي، رکوع اوسجده اداکړي، اوکه قبلي ته مخ واړوي او لمونځ په اشاره سره وکړي؟

جواب: که چیري یو څوك په ریل کي فرض لمونځ کوي نو هغه ته استقبال قبله، قیام، رکوع، سجده او نور ټول ارکان دلمانځه ادا کول اړین دي، یواځي دریل دسوارلی په وجه استقبال نه ساقطیږي، ځکه چي دریل دالواحو دتحویل سره سره په لږ تکلیف سره استقبال ممکن دی، که چیري پرته له کومي مجبوري ځخه استقبال ترك کړي نو لمونځ جایز نه دی او نه ادا کیږي که چیري مستقبل دقبلي وي او لمونځ شروع کړي او دلمانځه په حالت کي دقبلي سمت بدل سي نو لمونځ کوونکي ته اړینه ده چي هغه هم قبلي ته مخ واړوي لمونځ پوره کړي، ترځو دلمانځه ټول ارکان ادا سي، او دریل لمونځ کوونکي ته په فرض لمانځه کي هیڅ کله قعود قطعا جایز نه دی، او په نفل لمانځه کي جایز دی البته که چیري په حقیقت کي رش په دومره کچه وي چي دسجدي او رکوع کول ناشوني وي او دریل ځخه بهر دلمونځ کولو توان ونه لري نو پرته له قیام (۱) ځخه دي ادا کړي او دا صورت لږ پیښیدونکی دی. (۲) فقط

څلورم فصل: نیت

ایا نیت په ژبی سره شرط دی؟ سوال: (۲۳۵) په ژبي سره نیت دلمانځه دصحت لپاره اړین دی اوکه یوازي په زړه کي نیت کول کافي دی؟

جواب: دزړه نیت دلمانځه دصحت لپاره کافي دی (۳). فقط

ایا نیت په ژبی سره بدعت دی؟ سوال: (۲۳۶) ایا په نیت باندي تلفظ کول بدعت دي؟ او

---

(۱) والمربوطة بلجة البحر إن كان الريح يحركها شديدا فكالسائرة و الا فكالواقفة ويلزم استقبال القبلة عند الافتتاح وكلما دارت (درمختار) اي في قولهم جميعا وان عجز عنه يمسك عن الصلوة لعله يمسك ما لم يخف خروج الوقت لما تقرر من ان قبلة العاجز جهة قدرته وهذا كذلك والا فما الفرق (ردالمحتار باب صلاة المريض ص۷۱۴ ج۱). ظفير

(۲) من تعذر عليه القيام اي كله لمرض حقيقي الخ او حكمي بان خاف زيادته او بطئ برئه بقيامه او دوران رأسه او وجد بقيامه رأسه الماء شديدا الخ صلى قاعدا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلاة المريض ص۷۰۸ - ۷۰۹، ط.س. ج۲ ص۹۵). ظفير

(۳) والمستحب في النية ان ينوي يقصد بالقلب ويتكلم باللسان بان يقول اصلي صلوة الخ ولو نوي بالقلب ولم يتكلم باللسان جاز بلا خلاف بين الائمة لان النية عمل القلب لاعمل اللسان واستحباب ضمه اليه لما ذكرنا (غنية المستملي ص۲۵۱ - ۲۵۲). ظفير

بسم الله په مابينځ كي دفاتحې او سورة ويلو ممنوع ده؟
جواب: په نيت باندي تلفظ كول بدعت نه دی (١) او دسورت او فاتحي ترمينځ بسم الله ويل منعه نه ده. (٢)

په ژبه سره نيت كول ضروري نه دي؟ سوال: (٢٣٧) ما دفقهي په يو كتاب كي ليدلي وه چي دهر لمونځ نيت اول په زړه كي كول په كار دي او دهغه څخه وروسته هغه په ژبي سره ادا كول په كار دي، ماته دنيت دالفاظو په ژبي سره په ادا كولو كي سخت تكليف وي په دي صورت كي څه كول په كار دي؟
جواب: په دي صورت كي په زړه كي صرف دا خيال كول كافي دي چي مثلاً دا لمونځ دماپښين دی او په ژبي سره دنيت الفاظ ادا كول هم بهتر دي، اوكه چيري په دي كي څه تكليف وي نودا پريږدئ. (٣) فقط

دامام اجازت دمفتي لپاره شرط نه دی: سوال: (٢٣٨) زيد دجومات امام دی بكر ته وايي چي ته په ماپسي لمونځ مه كوه، ايا زيد په بكر پسي لمونځ كولای سي اوكه نه؟ اويا چي كله ورته زيد اجازه وركړي نو هغه وخت يي كولای سي او كه نه؟
جواب: په زيد پسي بكر لمونځ كولای سي او لمونځ صحيح دی، دزيد اجازت او حكم ته اړتيا نسته بكر په هرحال كي په هغه پسي لمونځ كولای سي او دزيد دغه وينا بي ځايه او دشريعت خلاف ده. (٤)

نيت په زړه سره ضروري دی اوكه په ژبه سره؟ سوال: (٢٣٩) په منية المصلي كي داسي ليكلي دي چي دلمانځه دنيت الفاظ په ژبي سره ويل مستحب دي اوپه زړه سره نيت كول فرض دي، ځيني خلګ وايي چي په ژبي سره نيت كول بدعت دی؟

---

(١) وتلفظ عند الارادة بها مستحب هو المختار الخ وقيل سنة يعني احبه السلف اوسنه علماءنا اذ لم ينقل عن المصطفى ﷺ ولا الصحابة ولا التابعين بل قيل بدعة (درمختار) نقله في الفتح وقال في الحلية ولعل الاشبه انه بدعة حسنة عند قصد جمع العزيمة (ردالمحتار باب شروط الصلوة بحث النية ص٣٨٢ ج١، ط.س. ج١ ص٤١٥). ظفير
(٢) وسمي الخ سرا في اول كل ركعة لو جهرية لاتسن بين الفاتحة والسورة مطلقا ولوسريه وتكره اتفاقاً (الد المختار على هامش ردالمحتار فصل في تاليف الصلوة ص٤٥٧ ج١، ط.س. ج١ ص٤٩٠). ظفير
(٣) والخامس النية بالاجماع وهي الارادة المرجحة الخ والمعتبر فيها عمل القلب اللازم للارادة الخ والتلفظ عند الارادة بها مستحب هوالمختار (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج١ ص٣٨٥ – ٣٨٢، ط.س. ج١ ص٤١٤). ظفير
(٤) والامام ينوي صلاته فقط ولايشترط لصحة الاقتداء نية امامة المقتدي (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ص٣٩٤ ج١، ط.س. ج١ ص٤٢٤). ظفير

جواب: صحيح داده چي په ژبه سره دنيت دالفاظو په ويلو كي هيڅ باك نسته بلكي مستحب دي مګر ضروري داده چي په زړه كي هم نيت وي دحنفيانو محقق مذهب همدا دی. (۱) فقط

آيا په ژبه سره نيت كول بدعت دي؟ سوال: (۲۴۰) زيد وايي چي په ژبه سره دلمانځه نيت كول بدعت دی، عمر وايي چي سنت دی؟

جواب: اصل نيت په زړه سره دی او په ژبي سره ويلو ته هم فقهاء كرامو مستحب ليكلي دي په درمختار كي راغلي دي: والمعتبر فيها عمل القلب اللازم للارادة الخ و التلفظ بها مستحب هو المختار (۲) الخ. فقط

په عربي ژبه كي دلمانځه نيت ضروري دی كه نه؟ سوال: (۲۴۱) دلمانځه نيت په عربي كي ضروري دی اوكه په اردو، پښتو، فارسي، اوداسي نورو كي يې هم كولای سي؟

جواب: نيت دزړه ارادي ته وايي په ژبي سره ويلو ته اړتيا نسته، كه چيري يې ووايي نو بهتره ده (۳) او په ژبوكي په پښتو، اردو، فارسي، او داسي نورو كي هيڅ ستونزه نسته.

ايا دمقتدي ښځي لپاره دامام نيت اړين دي؟ سوال: (۲۴۲) چي كله يوه ښځه په جمعه كي شريكه سي او لمونځ كوي نو امام ته دښځي دامامت نيت اړين او ضروری دی اوكه نه؟

جواب: كه چيري دسړي محاذي ولاړه نه وي نو امام ته دهغي دامامت نيت كول اړين نه دي. (۴)

الباب الرابع في صفة الصلاة

څلورم باب: دلمانځه په صفت كي

اول فصل: دلمانځه فرائض

(۱) والخامس النية بالاجماع وهي الارادة لا العلم والمعتبر فيها عمل القلب اللازم للارادة الخ والتلفظ بها مستحب وهو المختار الخ بل قيل هو بدعة (درمختار) نقله في الفتح وقال في الحلية ولعل الاشبه انه بدعة حسنة عند قصد جميع العزيمة الخ فلا جرم انه ذهب في المبسوط والبداية والكافي الى انه ان فعله ليجمع عزيمة قلبه فحسن (ردالمحتار، باب شروط الصلوة بحث النية ص۳۸۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۱۴). ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة بحث النية ص۳۸۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۱۵. ظفير

(۳) النية ارادة الدخول في الصلوة والشرط ان يعلم بقلبه اي صلاة يصلي الخ ولا عبرة للذكر باللسان فان فعله لتجتمع عزيمة قلبه فهو حسن كذا في الكافي (عالمگيري مصري الباب الثالث الفصل الرابع ص۲۱ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۶۵) ظفير

(۴) وان أم نساء فان اقتدت به المرأة محاذية لرجل في غير صلاة جنازة فلابد لصحة صلاتها من نية امامتها لئلا يلزم الفساد بالمحاذاة بلا التزام وان لم تقتد بلا محاذية اختلف فيه فقيل يشترط وقيل لا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة مطلب في النية ج۱ ص۳۹۴، ط.س. ج۱ ص۴۲۵). ظفير

تکبیر تحریمه چي دسړي لپاره اړين دی دښځي لپاره هم اړين دی: **سوال:** (**۲۴۳**) دلمانځه په وخت په ښځي باندي تکبير تحريمه ويل فرض دی اوکه نه؟

جواب: تکبير تحريمه ښځي او سړي دواړو ته ويل په کار دي په دي کي دسړيو څه تخصيص نسته، كما في عامة كتب الفقه. ([1])

په ریل کی استقبال دقبلی حتی الوسع ضروري دی: **سوال:** (**۲۴۴**) له بنګاله څخه په ريل کي په لمانځه کي دقبلي لوري ته دريدل ممکن نه دي اوکم ځای چي ممکن دي هلته دقيام او سجدي په ځای کي ګرد اوغبار وي نوپه دي صورت کي قيام فرض دی اوکه نه؟

جواب: په ريل کي حتى الوسع په ولاړه لمونځ په کار دی او قبلي ته مخ کول اړين دی ([2]) او دځای په هکله وهم کول نه ښايي، که ډيره سخته وي نو يو کالی به وغوړوي. فقط

په لمانځه کی سجده: **سوال:** (**۲۴۵**) په لمانځه کي سجده افضله ده اوکه نه؟

جواب: په لمانځه کي سجده، رکوع، او قيام کول فرض دي ([3]) په يوه اعتبار سره سجده افضله ده اوپه بل اعتبار سره قيام افضل دی. ([4]) فقط

په لمانځه کی چی دپښي بته ګوته وښوري نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (**۲۴۶**) دکم سړي چي غټه ګوته په لمانځه کي دخپل ځای څخه وښوريږي نو په لمانځه کي څه فرق راځي او که نه؟ که چيري دامام څخه دا ډول حرکت وسي نو دمقتديانو لمونځ کيږي او که نه؟

جواب: په دي سره په لمانځه کي هيڅ خلل او نقصان نه راځي، اوکه چيري امام داسي وي نو دمقتديانو په لمانځه کي اوپخپله دامام په لمانځه کي څه نقصان نه راځي. ([5])

([1]) من فرائضها التی لاتصح بدونها التحريمه قائما وهي شرط (درمختار) التحريمه المراد بها جملة ذكر خالص مثل الله اكبر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۱۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۴۲). ظفير

([2]) والسادس استقبال القبلة حقيقة او حكما كعاجز والشروط حضول لاطلبه الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ص۳۹۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۲۷) والفرائض الباقية من الست هي القيام الخ لقوله تعالى: وقوموا لله قانتين (غنية المستملي ص۲۵۴) ومنها القيام في الفرض الخ لقادر عليه (درمختار) فلوعجز عنه حقيقة وهو ظاهر او حكما كما لو حصل له به الم شديد او خاف زيادة المرض الخ فانه يسقط الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة بحث القيام ص۴۱۴ - ۴۱۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۴۴). ظفير

([3]) ومن فرائضها التي لاتصح بدونها التحريمة قائما الخ ومنها القيام بحيث لومد يديه لاينال ركبتية الخ في فرض الخ لقادر عليه الخ ومنها القراءة لقادر عليها الخ ومنها الركوع الخ ومنها السجود الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۱۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۴۲ - ۴۴۴). ظفير

([4]) وكثرة الركوع والسجود احب من طول القيام كما في المجتبي الخ وان مذهب الامام افضيلة القيام (ايضا باب الوتر والنوافل ص۲۳۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۴۷) دتفصيل لپاره ردالمحتار حاشيه در مختار باب وصفحه ايضا وګوری. ظفير

([5]) وحررناه في شرح الملتقي وفيه يفترض وضع اصابع القدم ولو واحدة نحو القبله وإلا لم تجز (اي السجدة) =

چې په ناسته لمونځ کوي نورکوع به کوي؟ سوال: (۲۴۷) که چیري په ناسته باندي لمونځ کوي درکوع په حالت دبالښت ورته پورته کول ضروري دی او که نه؟

جواب: اړیبن نه دی، په ردالمحتارکي راغلي دي: ولو كان يصلي قاعدا ينبغي ان يحاذي جبهته قدام ركبته ليحصل الركوع آه والا فقد علمت حصوله باصل طاء طاء الراس مع انحناء الظهر الخ شامي. (۱)

پروښو باندي لمونځ صحيح دي اوکه نه؟ سوال: (۲۴۸) که چیري واښه یا بل همدا ډول شی دیوي لوښتي په اندازه یا ډیر پنډ وي په ټټیدلو او پورته کیدلو سره کتل کیږي او بیرته پورته کیږي، ایا لمونځ کولورباندي جائز دي؟

جواب: په در مختار کي یي دسجدي دجواز په شرطونو کي دا هم لیکلي دي، وان يجد حجم الارض، او ددي تشريح علامه شامي دا فرمايلي ده: ان الساجد لو بالغ لا يتسفل رأسه ابلغ من ذلك الخ (۲) ص۳۳۷ ج۱، نوکه چیري دغه واښه یا کم بل څه دومره قدر وي او داسي وي چي په سجده کي په سر ایښودلو سره ورباندي دومره فشار راځي چي تر پایه تخته کیږي نو بیا لمونځ صحیح دی. فقط

دښځو په ناسته لمونځ کول پرته له عذره صحیح نه دي؟ سوال: (۲۴۹) دلته رواج دی چي ښځي په ناسته لمونځ کوي نو لمونځ یي کیږي او که نه؟

جواب: تر څو پوري چي ددریدلو توان ولري نو په ناسته لمونځ کول صحیح نه دی، پرته له یوه قوي عذر څخه دښځو په ناسته لمونځ کول په هیڅ ډول صحیح نه دی، او لمونځ نه کیږي (۳) فقط

په کټ باندي لمونځ صحیح دي: سوال: (۲۵۰) پرکټ باندي لمونځ یواځي هغه وخت صحیح کیږي چي کله کټ سخت او کلك وي اوکه دسست والي په حالت کي هم کیږي؟

جواب: پرکټ باندي لمونځ په هر حال کي صحیح دی اگرکه هغه ډیر سخت نه وي، ځکه چي که هغه سست هم وي نوکم وخت چي زنگونان په کټ باندي ولگیږي او زور ورباندي

= والناس عنه غافلون (درمختار) والحاصل ان المشهور في كتب المذهب اعتماد الفرضية والارجح من حيث الدليل والقواعد عدم الفرضية الخ ثم الاوجه حمل عدم الفرضية على الوجوب والله اعلم (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۲۲ – ۴۲۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۹۸ – ۵۰۰). ظفير

(۱) ردالمحتار، باب صفة الصلوة بحث الركوع والسجود ج۱ ص۴۱۲ ، ط.س. ج۱ ص۴۴۷. ظفير

(۲) ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل في تاليف الصلوة ط.س. ج۱ ص۴۹۷. ظفير

(۳) من فرائضها التي لا تصح بدونها التحريمة الخ ومنها القيام الخ في فرض وملحق به الخ لقادر عليه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۱۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۴۲ – ۴۴۴). ظفير

راسي نو دسجدي ځای به په خپله سخت سي. فقط

چي په اخري قعده کي بیده سي او دامام سره سلام وګرځوي نو لمونځ به وسي اوکه نه؟

سوال: (۲۵۱) زید په جمعه سره لمونځ وکړی اوپه اخره قعده کي بیده سو او دامام سره یي سلام وګرځوی مګر دبیداریدلو څخه وروسته دتشهد په اندازه کښینستی دزید لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: داحتیاط خبره داده چي قعده راوګرځوي کني لمونځ به ونه سي او دشیخ ابن الهمام له تحقیق څخه جواز معلومیږي او له قواعدو فقهیه وو څخه عدم جواز ځکه نو احتیاط په دویمه خبره کي دی، والتفصیل في الشامي. (۱)

په قیام کی ددواړو پښو تر مینځ فاصله ساتل څنګه ده؟ **سوال**: (۲۵۲) په لمانځه کي ددواړو پښو تر مینځ څلور ګوتي فاصله ساتل څنګه ده، که چیري کمی یا زیاتی وسي نو په لمانځه کي خو به څه خلل نه راځي؟

جواب: فقهاؤ لیکلي دي چي دلمانځه په وخت دپښو تر مینځ څلور ګوتي فاصله ساتل بهتر دي، که چیري کم او زیات سي نو لمونځ صحیح دی هیڅ کراهت نسته، شامي جلد اول فینبغي ان یکون بینهما مقدار اربع اصابع الید لانه اقرب الی الخشوع (۲) الخ شامی.

چي په سجده کی دواړه پښي پورته کړي نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۵۳) که چیري په سجده کي دواړه پښي له زمکي څخه پورته سي نو لمونځ به وسي اوکه نه؟ که چیري تر لږ ساعت پوري پورته وي نوایا په لمانځه کي څه خلل نه راځي؟

جواب: پښي په سجده کي پرزمکه باندي ساتل اړین دی مګر که چیري پرزمکه باندي داینښودلو څخه وروسته دواړي پښي پورته سوي یایي دپورته کیدلو څخه وروسته بیا پرزمکه باندي کښیښودي نو لمونځ یي وسو. (۳) فقط

---

(۱) منها القعود الاخیر والذي یظهر انه شرط لانه شرع للخروج (درمختار) وبین في الامداد الثمرة بانه لو اتي بالقعدة نائما تعتبر علی القول بشرطیتها لا رکنیتها وعزاه الی التحقیق والاصح عدم اعتبارها کما في شرح المنیة (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۱۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۴۸). ظفیر الدین غفرله

(۲) ردالمحتار باب صفة الصلوة بحث القیام جلد اول ص۴۱۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۴۴. ظفیر

(۳) وفیه یفترض وضع اصابع القدم ولو واحدة نحو القبلة والا لم تجز والنائم عنه غافلون (درمختار) قوله فیه اي في شرح المنتقي وکذا قال في الهدایة واما وضع القدمین فقد ذکر القدوري انه فرض في السجود آه فاذا سجد ورفع اصابع رجلیه لاتجوز کذا ذکره الکرخي والجصاص ولو وضع احداهما جاز الخ فصار في المسئلة ثلاث روایات الاولی فرضیة وضعهما، الثانیة فرضیة احداهما الثالثة عدم الفرضیة الخ والحاصل ان المشهور في کتب المذهب اعتماد الفرضیة والارجح من حیث الدلیل والقواعد عدم الفرضیة الخ ثم الاوجه حمل عدم =

ايا دهغه سړي لپاره په ناسته لمونځ جايز دي چي ګرځي راګرځي؟ سوال: (۲۵۴) کم سړی چي په ګرځيدو سره خپلي اړتياوي پوره کولای سي او بيا په ناسته لمونځ کوي نو دا صحيح دی او که نه؟

جواب: که چيري هغه په ولاړه لمونځ کولای سي نو په ناسته فرض لمونځ کول صحيح نه دی. (۱) فقط

دويم فصل: **دلمانځه واجبات**

په نوافلو کی اوله قعده واجبه ده که نه؟ سوال: (۲۵۵) په څلور رکعتي نوافلو کي اوله قعده واجبه ده او که فرض؟

جواب: واجبه ده کمافي الدرالمختار ولها واجبات الخ والقعود الاول ولو في نفل في الاصح. (۲) فقط

له رکوع څخه وروسته سيده دريدل په کار دي: **سوال**: (۲۵۶) ځيني خلګ له رکوع څخه وروسته سيده نه دريږي او سجدې ته ولاړ سي، ددې لمونځ کيږي؟

داولنی سجدې څخه چي پورته سي نو سيده دي کښيني بيا دي سجده وکړي کنې راګرځول يې واجب دي: **سوال**: (۲۵۷- ۱) ډير خلګ دسجدي څخه څلور ګوتي پورته سي دويمه سجده کوي دهغو لمونځ کيږي او که نه؟

جواب: (۱) که چيري درکوع څخه پورته سي او سيده ونه دريږي نو په دي کي ترك دواجب کيږي او هغه لمونځ دراګرځولو وړ دی.

(۲) دځينو محققينو په قول په دي کي ترك دواجب دی او دداسي لمانځه راګرځول واجب دی. (۳) فقط

= الفرضية على الوجوب. والله اعلم الخ وفي البزازية والمراد بوضع القدم هنا وضع الاصابع او جزء من القدم وان وضع اصبعا واحدة اوظهر القدم بلا اصابع ان وضع مع ذلك احدى قدميه صح والا لا (ردالمحتار، باب صفة الصلاة ج۱ ص۴۲۲، ط.س. ج۱ ص۴۹۹). ظفير

(۱) ومنها القيام الخ في فرض وملحق به كنذر وسنة فجر في الاصح لقادر عليه وعلى السجود فلو قدر عليه دون السجود ندب ايماءه قاعدا وكذا من يسيل جرحه لو سجد (درمختار) لقادر عليه فلو عجز عنه حقيقة وهو ظاهر او حكما كما لو حصل له به الم شديد او خاف زيادة المرض الخ فانه يسقط (ردالمحتار باب صفة الصلوة بحث القيام ص۵۱۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۴۴). ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب في واجبات الصلوة ص۴۲۴ ج۱ ط.س. ص۴۵۲ ج۱. قوله وفي نفل لانه وان كان شفع منه صلاة فاذا قام الى الثالثة تتبين ان ما قبلها لم يكن اوان الخروج عن الصلوة فلم تبق القعدة فريضة (ردالمحتار باب ايضاً ص۴۳۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۲۵). ظفير

(۳) ولها واجبات الخ وهي قراءة فاتحة الكتاب الخ وتعديل الاركان اي تسكين الجوارح قدر تسبيحة في =

تشهد په لمانځه کی واجب دی: سوال: (۲۵۸) تشهد په لمانځه کي غوره دی که نه؟
جواب: تشهد يعني التحيات ويل په لمانځه کي واجب او اړين دی. ([1]) فقط

دفرضو دوه رکعته تش دي او سنت ټول ډک دي، ددې څه حکمت دی؟ سوال: (۲۲۹) په فرضو کي دوه رکعته خالي کول کيږي، اوپه سنتو کي ټول ډك، په دي کي څه حکمت دی؟
جواب: په فرضو کي دوه رکعته تش ساتل يا صرف سورت فاتحه لوستل وارد سوي دي په دي وجه هغه تش کول ښايي ([2]) او په سنتو او نفلو کي هر يوه شفعه دلمانځه بيله ده ځکه نو ټول رکعتونه ډك کول په کار دي. ([3]) فقط

ايا دهر مکروه تحريمي سره لمونځ راګرځول واجب دی؟ سوال: (۲۲۰) دهر مکروه تحريمي فعل سره دلمانځه راګرځول واجب دي؟
جواب: په مکروه تحريمي فعل سره بيشکه دلمانځه راګرځول واجبيږي. ([4]) او دتفصيل دا وخت موقع نه ده. فقط

دارکانو دتعديل څخه پرته چي کم لمونځونه سوي دي دهغو څه حکم دی؟ سوال: (۲۲۱) ديو سړي عمر شل کاله دی په دي موده کي هغه هيڅ لمونځ صحيح ونه کړ يواځي دوه ډغري ووهي او لمونځ ختم کړي دا لمونځونه وسول که نه؟ که چيري يي راګرځوي نو يواځي فرض به ادا کوي که سنت هم؟
جواب: کم لمونځونه چي په تعديل ارکان سره ادا نه سول که څه هم هغه سوي دي مګر دهغو راګرځول ښه دی ([5]) فرض او وتر دي را وګرځوي سنت دي نه راګرځوي. فقط

الركوع والسجود وكذا في الرفع منهما على ما اختاره الكمال (درمختار) قوله وكذا الرفع الخ اي يجب التعديل ايضا في القومة من الركوع والجلسة بين السجدتين وتضمن كلامه وجوب نفس القومة والجلسة ايضا الخ حتى لوتركها او شيئا منها ساهيا يلزمه السهو لو عمل يكره اشد الكراهة ويلزمه ان يعيد الصلاة الخ (ردالمحتار باب صفة الصلاة مطلب واجبات الصلوة ص۴۲۴ ج۱ وص۴۳۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۵۲ - ۴۶۴). ظفير

([1]) ومنها قراءة التشهد فانها واجبة في القعدتين الاولى والاخيرة الخ فاوجب السجود بترك التشهد في القعدة الاخيرة كما في القعدة الاخيرة وهو ظاهر الرواية (غنية المستملي ص۲۹۵). ظفير

([2]) وعن ابي قتادة قال كان النبى صلى الله عليه وسلم يقرأ في الظهر في الأوليين بام الكتاب وسورتين وفي الركعتين الاخريين بام الكتاب ... وهكذا في العصر (مشكوة باب القراءة في الصلوة ص۹۷). ظفير

([3]) وضم سورة الخ في الاوليين من الفرض الخ وفي جميع ركعات النفل لان كل شفع منه صلاة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة واجبات الصلوة ص۳۲۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۷۵۸). ظفير

([4]) وكذا كل صلاة اديت مع كراهة التحريم وجب اعادتها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص ۴۲۵، ط.س. ج۱ ص۴۵۷). ظفير =

دریم فصل: دلمانځه سنت او کیفیات

<u>درکوع او سجدی دتسبیحاتو تعداد</u>: سوال: (۲۲۲) په لمانځه کي درکوع او سجدي دتسبیحاتو تردریو یا لسو په زیاتو ویلو سره لمونځ مکروه کیږي اوکه غوره کار دی، په قومه کي ربنا لك الحمد ویل دسمع الله لمن حمده څخه وروسته مستحسن دی او که نه په جلسه کي رب اغفرلي وارحمني وعافني وارزقني ویل مستحسن دي اوکه نه؟

جواب: دري ځله درکوع او سجدي په تسبیح ویلو سره سنت تسبیح ادا سو او په فرائضو کي دتخفیف حکم دی، ددي لپاره دمقتدیانو درعایت په وجه زیات تطویل نه دی کول پکار څنګه چي پخپله نبي کریم صلی الله علیه وسلم ځیني صحابه ؤ ته په قراءت کي دتطویل په وجه اَ فَتَّانٌ اَنْتَ [۱] فرمایلي وه، سره له دي چي قراءت دلمانځه په اجزاءو کي غوره جز دی مګر له دریو څخه زیات کیدلو ته حنفیان مکروه نه وایي [۲] او دسمع الله لمن حمده څخه وروسته ربنا لك الحمد ویل هم مستحب دی [۳] همدا ډول په جلسه کي رب اغفرلي الخ ویل جایز او مستحسن دي مګر غوره داده چي دعاګاني او اذکار په نوافلوکي ووایي او په فرائضو کي دي تخفیف ساتي [۴] لکه څنګه چي امر د: فلیُخَفِّفْ

---

[۵] و لها واجبات لاتفسسد بترکها وتعاد وجوبا في العمد والسهو ان لم یسجد له وان لم یعدها یکون فاسقا آثما الخ وهي قراءة فاتحة الخ وتعدیل الارکان (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة ص۴۲۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۵۷). ظفیر

[۱] مشکوة باب القراءة في الصلوة، فصل اول ص۷۹ عن البخاري ومسلم. ظفیر

[۲] ویقول في رکوع سبحان ربي العظیم ثلاثا وذلك ادناه فلو ترك التسبیح اصلا واتي به مرة واحدة یجوز ویکره ((عالمګیري مصري ص۷۹ ج۱ ط. ماجدیة ج۱ ص۷۴) ویقول في سجوده سبحان ربي الاعلی ثلاثا و ذلك أدناه کذا في المحیط ویستحب ان یزید علی الثلاث في الرکوع والسجود بعد ان یختم بالوتر کذا في الهدایة فالادني فیها ثلاث مرات والاوسط خمس مرات والاکمل سبع مرات کذا في الزاد، وان کان اماما لایزید علی وجه یمل القوم کذا في الهدایة (عالمګیري مصري الباب الرابع في صفة الصلاة فصل ثالث ص۷۰ ج۱، ط. ماجدیة ج۱ ص۷۵). ظفیر

[۳] ان کان اماما یقول سمع الله لمن حمده بالاجماع وان کان مقتدیا یاتي بالتحمید ولا یاتي بالتسمیع بلا خلاف، وان کان منفرد الاصح انه یاتي بهما کذا في المحیط وعلیه الاعتماد کذا في التتارخانیه وهو الاصح هکذا في الهدایة ثم في الروایات بجمع یاتي بالتسمیع حال الارتفاع واذا استوی قائما قال ربنا لك الحمد کذا في الزاهدي وهو الصحیح کذا في القنیة (عالمګیري مصري باب ایضا ص۷۰ ج۱). ظفیر

[۴] والسنة فیه ان یرفع ان رأسه حتی یستوی جالسا ولیس في هذا الجلوس ذکر مسنون عندنا هکذا في الجوهرة النیرة (عالمګیري مصري ج۱ ص۷۰، ط. ماجدیة ج۱ ص۷۵) قال ابویوسف سألت الامام أیقول الرجل إذا رفع رأسه من الرکوع والسجود اللهم اغفر لي؟ قال: یقول ربنا لك الحمد وسکت الخ أقول: بل فیه إشارة إلی أنه غیر مکروه إذ لو کان مکروها لنهی عنه کما ینهی عن القراءة في الرکوع والسجودوعدم کونه مسنونا لاینافي الجواز کالتسمیة بین الفاتحة والسورة بل ینبغي أن یندب الدعاء بالمغفرة بین السجدتین خروجا من خلاف الإمام =

الحديث (۱) ددي تقاضا كوي واذا اراد الله بعبد خيرا يفقهه في الدين (۲) فقط

رفع يدين (دلاسونو پورته كول) چيري دي؟ سوال: (۲۲۳) رفع يدين چيري كول پكار دى؟

جواب: رفع يدين پرته داول تكبير څخه دحنفيه ؤ په نزد منسوخ دى ځكه چي جليل القدر صحابه كرامو رضى الله عنهم به نه كول، عن براء بن عازب قال كان النبى ﷺ اذا كبر لافتتاح الصلوة رفع يديه حتى يكون ابهاماه قريبا من شحمتي اذنيه ثم لايعود، عن الاسود قال رأيت عمر بن الخطاب رضى الله عنه يرفع يديه في اول تكبيره ثم لايعود (۳) قال ابو جعفر الطحاوي فهذا عمر رضى الله عنه لم يكن يرفع يديه ايضا الا في التكبيرة الاولى في هذا الحديث، وهو حديث صحيح الخ وفعل عمر هذا وترك اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم اياه على ذلك دليل صحيح ان ذلك هو الحق الذي لاينبغي لاحد خلافه. (۴)

درفع يدين دمنسوخ كيدلو دليل څه دى؟ سوال: (۲۲۴) رفع يدين چي پرته له ۷ ځايونو څخه منسوخ دي ددي څه دليل دى؟

جواب: رفع يدين پرته د۷ ځايونو څخه منسوخ دى (دليل) والدليل المحمل للكل ماروى عن النبي صلى الله عليه وسلم انه قال لاترفع الايدى الا في سبع مواطن وعد منها تكبيرة الافتتاح وتكبيرة القنوت والعيدين وذكر الاربع في الحج كذا في الهداية ثم هذا عندنا، وقال الشافعي رحمه الله يرفع يديه عند الركوع والرفع منه لانه عليه السلام فعل ذلك، ولنا ما روينا وما رواه محمول على الابتداء وكذا نقل عن ابن زبير فانه رأي رجلاً يفعل هذا فقال لا تفعل ليس هذا بشيئ فانه شيئ فعله رسول الله صلى الله عليه وسلم ثم ترك كذا في الهداية (۵) والكفايه وقدروي الطبراني بسنده عن ابن ابي ليلى عن الحكيم عن المقسم

= أحمد لإبطاله الصلاة بتركه عامدا ولم أر من صرح بذلك عندنا لكن صرحوا باستحباب مراعاه الخلاف (رد المحتار باب صفة الصلاة ج۱ ص۴۷۲، ط.س. ج۱ ص۵۰۵). ظفير

(۱) هغه حديث دا دى: عن ابي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا صلى احدكم للناس فليخفف فان فيهم السقيم والضعيف والكبير واذا صلي احدكم لنفسه فليطول ماشاء، متفق عليه (مشكوة، باب ما على الامام ص۱۰۱). ظفير غفرله

(۲) وګورئ: مشكوٰة كتاب العلم فصل اول ص۳۲، الفاظ دمشكوة په حديث كي دا دي: من يرد الله به خيرا يفقه في الدين. ظفير

(۳) شرح معانى الاثار، باب التكبير للركوع والتكبير للسجود والرفع من الركوع هل مع ذلك رفع ام لا ص۱۳۲ ج۱. ظفير

(۴) ايضًا ص۱۳۳ - ۱۳۴ ج۱. ظفير

(۵) وګورئ: هدايه باب صفة الصلوة ج۱ وفتح القدير باب ايضا ص۲۲۸. ظفير

عن ابن عباس عنه عليه الصلوة والسلام. ([1]) فقط

دنيت څخه وروسته دلاسونو دنيولو ترکيب: **سوال**: (۲۲۵) دلمانځه دنيت کولو څخه وروسته لاس لاندي پريږدي او بيا يي تر نامه لاندي وتړي اوکه غوږونو ته له پورته کولو وروسته يي سمدستي تر نامه لاندي وتړي؟

جواب: لاسونه دي تر غوږونو پوري پورته کړي، او نيت دي وتړي او بيا دي لاسونه تر نامه لاندي وتړي. ([2])

په ناسته دلمونځ کولو ترکيب: **سوال**: (۲۲۶-۱) په ناسته دلمونځ کولو څه شرطونه دي، زموږ دمدرسي مدرس مولوي حيدر علي وايي چي کم خلګ په ناسته لمونځ کوي او په سجده کي کوناټي پورته کوي دهغوي لمونځ نه کيږي بلکي دښځو په ډول سجده کول په کار دي؟

په ناسته دلمانځه شرطونه کم دي؟ **سوال**: (۲۲۷-۲) په ناسته دلمونځ کولو څه څه شرطونه دي؟

جواب: (۱) ددوی دا خبره غلطه ده، سړيانو ته دښځو په ډول لمونځ نه دي کول په کار سړيانو ته په سجده کي دشا حصه پورته کول په کار دي ([3]).

(۲) په نوافلو کي په ناسته دلمانځه کول پرته له عذره هم جائز دي، او په فرائضو او واجباتو کي پرته له عذره اجازت نسته او سنت موکده دي هم پرته له عذره په ناسته نه کوي. ([4]) فقط

دعدم رفع اليدين دسلسلي ديوحديث حال: **سوال**: (۲۲۸) وکيع له اعمش څخه روايت کړی دی هغه دمسيَّب بن رافع څخه، هغه دتميم بن طرفه څخه، هغه دجابر بن سمره ﷺ څخه،

([1]) فتح القدير باب ايضا ص۲۹۹. ظفير

([2]) ورفع يديه الخ ماسا بابهاميه شحمتى اذنيه الخ ووضع الرجل يمينه على يساره تحت سرته (الدر المختار على هامش ردالمحتار على باب صفة الصلوة فصل۴۵۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۷۴ – ۴۷۲). ظفير

([3]) ويضع يديه في السجود حذاء اذنيه الخ ولا يفترش ذراعيه ويجافي بطنه عن فخذيه والمرأة لاتجافي في ركوعها وسجودها وتقعد على رجليها وفي السجدة تفترش بطنها على فخذيها (عالمگيري باب رابع صفة الصلوة فصل ثالث ص۷۰ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۷۵) ويظهر عضديه الخ ويباعد بطنه عن فخذيه الخ والمرأة تخفض فلا تبدي عضديها وتلصق بطنها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار، باب صفة الصلوة فصل تاليف الصلوة ص۴۷۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۰۳ – ۵۰۴). ظفير

([4]) ويتنفل مع قدرته على القيام قاعدا لا مضطجعا الا بعذر (درمختار) يتنفل الخ اي في غير سنة الفجر في الاصح كما قدمه المصنف بخلاف التراويح لانها دونها في التاكد فتصح قاعدا وان خالف المتوارث الخ (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۷۵۲، ط.س. ج۲ ص۳۶). ظفير

هغوی ويلي دي چي زموږ خواته رسول الله صلى الله عليه وسلم راغی په داسي حال کي چي موږ خپل لاسونه په لمانځه کي پورته کول، نو ويي فرمايل دا څه حال دی چي زه تاسو وينم چي لاسونه پورته کوي لکه چي دسرکښو اسونو لکۍ وي، په لمانځه کي په اطميئان اوسئ، دا حديث صحيح دی که ضعيف دی؟

جواب: په دي کي اختلاف دی او تحقيق ددي په فتح القدير کي دا ډول دی: عن جابر بن سمرة قال دخل علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم والناس رافعوا ايديهم، قال زهير اراه قال في الصلوة فقال مالي اراكم رافعي ايديكم كانها اذناب خيل شمس اسكنوا في الصلوة [1] دا حديث صحيح دی او دا حديث مطلقا دصلوة په حالت کي دی. فقط

ښځه به په سجده اوجلسه کي پښې څنګه ايږدي؟ سوال: (۲۶۹) ښځي ته په سجده او جلسه کي پښې څنګه ښودل په کار دي؟

جواب: دښځي لپاره پښې درول سنت نه دي، في الشامی انها لاتنصب اصابع القدمين [2] نو په سجده او جلسه کي دي پښې نه دروي او په جلسه تشهد او داسي نورو کي دي تَوَرُّك کوي، يعني پيوسته دي پرکوناټو کښيني، في الشامي وتتورك في التشهد الخ. [3] فقط

په ناسته لمونځ کول اوپه دي سلسله کي يوغلط روايت: **سوال**: (۲۷۰) من صلی قاعدا لايرفع الاليتين قي الركوع والسجود فان رفع اليتين فيها تفسد صلوته الخ، دا روايت صحيح دی اوکه نه؟

جواب: دا روايت دقواعدو څخه خلاف دی او بي اصله دی او په هيڅ يو معتبر کتاب کي نسته بلکي دفقهي په کتابونو کي چي عام حکم دسجدي په باره کي دی، ويظهر عضديه ويباعد عن فخذيه [4] درمختار، دسجدي دا حکم ناست او ولاړ دواړو لمونځ کوونکو ته شامل دي او دکوناټو پورته کول په دي کي لازم دي. فقط

دسورت څخه مخکي الله ويل څنګه دي؟ سوال: (۲۷۱-۱) په لمانځه کي دالحمد شريف څخه وروسته دسورت دويلو څخه مخکي بسم الله ويل جايز دي که نه؟

په التحيات کی دګوتو حلقه: **سوال**: (۲۷۲-۲) په التحيات کي دشهادت په کلمه باندي دګوتو حلقه جوړول صحيح دی اوکه نه؟

---

[1] وګورئ: البنايه في شرح الهدايه کشوري جلد اول ص۲۲۲. ظفير
[2] ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل في تاليف الصلوة جلد اول ص۴۷۰. ظفير
[3] ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل في تاليف الصلوة جلد اول ص۴۷۰، ط.س. ج۱ ص۴۹۹. ظفير
[4] الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل اذا اراد الشروع ص۴۷۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۹۸. ظفير

جواب: (۱) دالحمد شریف څخه وروسته دسورت څخه مخکي بسم الله شریف لوستل جایز بلکه بهتر دی. (۱)
(۲) په التحیات کي دمنځنۍ ګوتي اوغټي ګوتي حلقه جوړول او په سبابي ګوتي سره اشاره کول سنت دي. (۲) فقط

که چیري امین په دومره اواز سره ووایي چي یو دوه سړي یې واوري نو دا څه حکم دی؟

سوال: (۲۷۳) که چیري یوسړی په لمانځه کي امین په دومره اواز سره ووایي چي نژدي یو دوه کسان یې اواز واوري نو داحنافو په نزد لمونځ وسوکه نه؟

جواب: دحنفیانو په نزد امین کرار ویل سنت دی، مګر که چیري دوه نزدي کسان یي واوري نو هغه جهر نه دی هغه هم په کرار کي داخل دی، کما قال في الدرالمختار وادنی المخافة اسماع نفسه ومن بقربه ولو سمع رجل او رجلان فلیس بجهر الخ. (۳)

دشکر سجده کول څنګه ده؟ سوال: (۲۷۴) دشکر دسجدي څه حکم دی؟ او دلمانځه څخه وروسته سجده کول په کار دي اوکه څه وخت؟ او دلمانځه څخه وروسته بغیر دکمي وجي سجده کول څنګه دي؟

جواب: دشکر سجده دنعمت دتجدد په مهال مستحب ده في الدر المختار وسجدة الشکر مستحبة (۴) او وروسته تر لمانځه پرته له کومي وجي مکروه ده، کما فیه ایضا لکنها تکره بعد الصلوة لان الجهلة یعتقدونها سنة او واجبة وکل مباح یؤدي الیه فهو مکروه (۵) الخ. فقط

درکوع څخه دپورته کیدو په وخت کی مقتدي ته دربنا لک الحمد سره اللّٰهم ویل په کاردي او

---

(۱) ولاتسن (اي التسمیة) بین الفاتحة والسورة مطلقا ولو سریة، ولاتکره اتفاقا وما صحح الزاهدي من وجوبها ضعفه في البحر (درمختار) وقال محمد تسن ان خافت لا إن جهر الخ وذکر في المصفي ان الفتوی علی قول ابی یوسف انه یسمي في اول کل رکعة ویخفیها وذکر في المحیط المختار قول محمد وهو ان یسمي قبل الفاتحة وقبل کل سورة في کل رکعة الخ قوله: ولا تکره الخ ولهذا صرح في الذخیرة والمجتبي بانه ان سمي بین الفاتحة والسورة المقروءة سرا او جهراً کان حسنا عند ابي حنیفة رجحه المحقق ابن الهمام وتلمیذه الحلبی (ردالمحتار باب صفة الصلوة قبیل مطلب قرءة البسملة ص۴۵۷ – ۴۵۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۹۰). ظفیر
(۲) لکن المعتمد الخ انه یشیر لفعله علیه الصلاة والسلام (درمختار) فهو صریح في ان المفتی به هو الاشارة بالمسبحة مع عقد الاصابع الخ (ردالمحتار ج۱ ص۴۷۵، ط.س. ج۱ ص۵۰۸). ظفیر
(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل في القراءة ص۴۹۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۳۴ – ۵۳۵. ظفیر
(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة مطلب في سجدات الشکر ج۱ ص۷۳۱، ط.س. ج۲ ص۱۱۹. ظفیر
(۵) ایضا. ظفیر

که نه؟ سوال: (۲۷۵) امام چي کله سمع الله لمن حمده ووايي نو مقتدي صرف ربنا لك الحمد ووايي که اللهم هم ورسره زيات کړي، غوره څنګه ده؟

جواب: امام چي کله سمع الله لمن حمده ووايي نو مقتدي دي صرف ربنا لك الحمد ووايي، او که چيري اللهم ورسره زيات کړي نو بهتره ده، په حديث شريف کي دواړه وارد دي، اوپه ځيني احاديثو کي دواو زياتوالی هم وارد دی يعني اللهم ربنا ولك الحمد، نوهر يولفظ چي ووايي کافي دی او سنت ادا کيږي. (۱) فقط

دالسلام عليکم ويلو په وخت کی چی دمقتدي ساه دامام څخه مخکی ختمه سي څه حکم لري؟ سوال: (۲۷۲) چي دمقتدي ساه دسلام ګرځولو په وخت کي دالسلام عليکم دويلو په مهال دامام څخه مخکي ختمه سي نو دمقتدي لمونځ کيږي اوکه نه؟

جواب: دمقتدي په لمانځه کي په دي صورت کي هيڅ خلل نه راځي. (۲) فقط

په الله اکبر کی (ر) ددال په اواز سره ادا کول څنګه دي؟ سوال: (۲۷۷) زيد فکر کوي چي عام خلګ دلمانځه په انتقالي تکبير کي دالله اکبر (ر) دومره راکشوي چي له دي وجي په لمانځه کي نقصان واقع کيږي، دالله اکبر (ر) داسي راکشول چي پرځای د (ر) باندي عام خلګ دال محسوس کړي شرعاً څنګه دی؟

جواب: داسي کول نه ښايي، دحروفو بدلول روا نه دي. (۳)

دسجدې طريقه: **سوال**: (۲۷۸) په سجده کي ورون او پنډۍ څومره سره خلاصولای سي ايا زاويه قائمه جوړل په کار دي اوکه څنګه؟

جواب: په درمختار کي راغلي دي: ويظهر عضديه في غير زحمة ويباعد بطنه عن فخذيه ليظهر کل عضو بنفسه (۴) الخ نو څرګندده سوه چي په سجده کي سنت هم دومره قدر دي او زاويه قائمه جوړول اړين نه دي، اودا هم هغه وخت وي چي په جمعه کي نه وي يوازي وي يا امام وي کنې داسي فعل دي نه کوي چي په هغه سره نورومقتديانوته تکليف وي.

---

(۱) ويکتفى بالتحميد الموتم وافضله اللهم ربنا ولك الحمد ثم حذف الواو ثم اللهم فقط (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۲۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۹۷). ظفير

(۲) لو اتم المؤتم التشهد بان اسرع فيه وفرغ منه قبل اتمام امامه فاني بما يخرجه من الصلوة کسلام وکلام او قيام جاز اي صحت صلاته بحصول بعد تمام الارکان الخ وانما کره للموتم ذالك لترکه متابعة الامام بلا عذر فلو به الخ فلا کراهة (ردالمحتار باب صفة الصلاة ج۱ ص۴۹۰، ط.س. ج۱ ص۵۲۵). ظفير

(۳) دتکبير معنى الله اکبر ويل دي که چيري (ر) په دال سره بدله ووايي نو معنى دتکبير به ادا نه سي، وجهر الامام بالتکبير بقدر حاجته بالدخول والانتقال الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار، سسنن صلاة ص۴۴۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۷۵). ظفير

(۴) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۷۰، ط.س. ج۱ ص۵۰۳. ظفير

ښځې په سجده کې دپښو ګوتې څرنګه ايږدي؟ سوال: (۲۷۹) ښځې په سجده کي دپښو ګوتي ولاړي وساتي اوکه خپري يي کړي؟

جواب: دښځو په حق کي دپښو ګوتي ولاړي ساتل مشروع نه دي، وذكر في البحر انها لا تنصب اصابع القدمين الخ شامي [۱] فقط

امام چې ثنا ووايي نو قراءت شروع کړي اوکه دمقتدي دلوستلو انتظار وکړي؟ سوال: (۲۸۰) امام ته دثناء دلوستلو څخه وروسته دمقتديانو دثناء دلوستلو انتظار کول په کار دي او که قراءت شروع کړي؟

جواب: نه [۲] فقط (يعني انتظار دي نه کوي).

دسلام ګرځولو په وخت کې چې څوک شريک سي هغه تشهد پوره کړي اوکه نه؟ سوال: (۲۸۱) کم سړي چي دامام اقتداء دسلام ګرځولو په وخت کي کړي وي نو ايا دامام دسلام ګرځولو څخه وروسته هغه ته تشهد پوره کول اړين دی؟

جواب: په شامي ص۳۳۳ ج۱ کي دي: چي غوره خبره په دي کي دا ده چي تشهد دي پوره کړي بيا دي ودريږي، اوکه چيري يي پوره نه کړی او ودريدی نو داهم جايز دی. [۳]

دامام دسلام ګرځولو په وخت کې مقتدي دعا پوره نه کړي سوه نوڅه وکړي؟ سوال: (۲۸۲) چي امام سلام وګرځوي او دمقتدي څه دعا پاته وي نوسمدستي دامام سره سلام وګرځوي اوکه دختمولو څخه وروسته سلام وګرځوي؟

جواب: که چيري لږ دعا پاته وي، او هغه ژر پوره کړي او لږ وروسته سلام وګرځوي نو په دي کي هم څه خبره نسته. [۴] فقط

کم مقيم چي په مسافر إمام پسي اقتدا وکړي هغه به په پاته رکعتونو کی تسميع وايي که تحميد؟ سوال: (۲۸۳) مقيم دمسافر اقتداء وکړه نووروسته به په خپلورکعتونوکي صرف

---

[۱] ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۷۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۰۸. ظفير

[۲] وقرأ سبحانك اللهم الخ الا اذا شرع الامام في القراءة سواء كان مسبوقا او مدركا وسواء كان امامه يجهر بالقراءة او لا فانه لا يأتي به الخ ادرك الامام في القيام يثنى مالم يبدء بالقراءة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل ص۴۵۲ ج۱، ص۴۸۸). ظفير

[۳] وشمل باطلاقه ما لو اقتدى به في اثناء التشهد الاول او الأخير فحين قعد قام امامه او سلم ومقتضاه انه يتم ثم يقوم ولم اره صريحا ثم رايته في الذخيرة ناقلا عن ابى الليث المختار عندي انه يتم التشهد وان لم يفعل اجزاه (ردالمحتار باب صفة الصلوة بعد مطلب في اطاعة الركوع للجائى ص۴۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۹۲). ظ

[۴] ولو سلم والموتم في ادعية التشهد تابعه لانها سنة والناس عنه غافلون (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل بعد مطلب في اطاعة ركوع للجائى ص۴۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۹۲). ظفير

تحمید وایي که تسمیع اوکه دواړه؟

جواب: داسي ښکاري چي تسمیع او تحمید دواړه غوره دي. (١) فقط

دفرضو څخه وروسته ایات الکرسي: **سوال**: (۲۸۴) امام ته دفرض لمانځه څخه وروسته په څومره اندازي سره په ایات الکرسي لوستلو باندي وخت تیرول په کاردي، امام چي تر ډیره وخته پوري ناست وي او لوستل کوي نو ایا په مقتدي باندي دهغه پیروي لازمه ده اوکه ددعا کولو څخه وروسته په سنتو کي مشغول سي؟

جواب: دفرضو څخه وروسته دسنتو څخه مخکي که چیري ایات الکرسي او تسبیحات بعد الصلوه او داسي نور وارد مختصره پوره کړي او سنت وکړي نو څه تکلیف نسته، او دوخت څه مقدار معین نه دی مګر زیات تاخیر دي نه کوي (٢) که چیري زیات اوراد او لوستل کوي نو پرمقتدیانو باندي دهغه اتباع لازمه نه ده هغوي ته اختیار دی چي سمدستي یا دڅه لوستلو څخه وروسته سنت وکړي. فقط

په مازدیګر او سهار کي دجنوب لوري ته مخ کول او دعا غوښتل: **سوال**: (۲۸۵- ۱) زید دمازدیګر او سهار دلمانځه دسلام ګرځول څخه وروسته کله کله دجنوب لوري ته ګرځي او دعا غواړي، دا دنبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي که نه؟

په هندوستان کي دانصراف الی الیمین والیسار رواج: **سوال**: (۲۸۲-۲) په هندوستان کي هم علماء کرام دجنوب لوري ته په مخ کولو سره دعا کوي اوکه نه؟

انصراف له حنفي مذهب سره سمون لري اوکه نه؟ **سوال**: (۲۸۷-۳) دزید دا فعل دامام ابوحنیفه رحمه الله دمذهب موافق دی اوکه نه؟

په حدیث کي له انصراف څخه مراد څه دي؟ **سوال**: (۲۸۸-۴) په حدیث کي چي د: ینصرف عن یمینه وعن یساره کم لفظ راغلي ایا دا انصراف للذهاب الی المنزل وو او که انصراف للدعا وو؟

---

(١) ویکتفی بالتحمید الموتم وافضله اللهم ربنا ولك الحمد ثم حذف الواو ثم حذف اللهم فقط، ویجمع بینهما لو منفردا علی المعتمد یسمع رافعًا ویحمد مستویا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، باب صفة الصلوة ص۴۲۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۹۷). ظفیر

(٢) ویکره تاخیر السنة الا بقدر اللهم انت السلام الخ قال الحلواني لاباس بالفصل بالاوراد واختاره الکمال قال الحلبي ان ارید بالکراهة التنزیهیة ارتفع الخلاف (درمختار) فکان معناها ان الاولی ان لایقرء قبل السنة ولو فعل لاباس فافاد عدم سقوط السنة بذلك حتی اذا صلی بعد الاوراد تقع سنة لا علی وجه السنة ولذا قالوا لوتکلم بعد الفرض لاتسقط لکن ثوابها اقل فلا اقل من کون قراءة الاوراد لا تسقط الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل ص۴۹۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۳۰). ظفیر

دانصراف للدعا دليل: **سوال**: (۲۸۹-۵) دانصراف للدعاء دعدم ثبوت په صورت کي دشمال لوري ته په ګرځيدلو سره ددعا غوښتلو څه دليل دی؟

جواب: (۱) نبي کريم ﷺ به اکثر رسته لوري ته اوکله کله به چپ لوري ته هم ګرځيدی(۱) ددي لپاره فقهاء کرامو هم دواړو لورو ته کښينستل او دعا غوښتل مستحب ليکلي دي. (۲)

(۲) اکثر عوام او خواص زيات تررسته لوري ته په ګرځيدلو سره کښيني اوکله کله چپ لوري ته په ګرځيدلو سره کښيني. (۳)

(۳) کله کله چپ لوري ته يعني دجنوب لوري ته مخ کول او کښينستل دنبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه ثابت دي او دامام ابوحنيفه رحمه الله مذهب هم دغه دی چي کله کله چپ لوري ته هم کښيناستل ښه دي او مستحب دی. (۴)

(۴) ددي انصراف مطلب انصراف للدعاء هم کيدای سي. (۵)

۵) کله چي انصراف، انصراف للدعاء ته شامل دی نو همدا دليل کافي دی. فقط

درکوع اوسجدي په تسبيحاتو کي دبحمده ډيرول صحيح دي اوکه نه؟ **سوال**: (۲۹۰) زيد په خپلو فرضو اونفلو کي په رکوع کي سبحان ربي العظيم وبحمده او په سجده کي سبحان ربي الاعلى وبحمده وايي، خالد وايي چي وبحمده ويل په کم حنفي کتاب کي نسته اونه فقهاوو ليکلي دي او نه دحديث څخه ثابت دي، ايا خالد پرحق دی اوکه زيد؟

جواب: په احاديثو کي درکوع او سجدو په تسبيح کي همدغه ډول وارد سوي دي څنګه چي خالد وايي، اوحنفي فقهاؤ هم همدا اختيار کړي دي (۶) پاته که چيري دبحمده زياتوالی وکړل سي نو څه (بديت) نسته، دا څه داختلاف کولو خبره نه ده. فقط

---

(۱) عن انس کان النبي صلى الله عليه وسلم ينصرف عن يمينه رواه مسلم، عن عبدالله بن مسعود قال لا يجعل احدکم للشيطان شيئا من صلوته يرى ان حقا عليه ان لاينصرف الا عن يمينه لقد رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم کثيرا ينصرف عن يساره. متفق عليه (مشکوة باب الدعا في التشهد ص۸۷). ظفير

(۲) فاذا تمت صلوة الامام فهو مخير ان شاء انحرف عن يساره وجعل القبلة عن يمينه وان شاء انحرف عن يمينه الخ وان شاء استقبل الناس بوجهه الخ هذا اذا لم يکن بعد الصلوة المکتوبة تطوع کالفجر والعصر (غنية المستملي ص۳۳۰). ظفير

(۳) و(۴) ايضاً. ظفير

(۵) والمراد من الانصراف الالتفات عن جهة الصلوة وهي القبلة اعم ان يجلس بعده اولا. فلذا قال وان شاء ذهب الى حوائجه لانه قضى صلوته الخ (غنية المستملي ص۳۳۰). ظفير

(۶) ويضع يديه معتمدا بهما على رکبتيه الخ ويسبح فيه واقله ثلثة (درمختار) السنة في تسبيح الرکوع سبحان ربي العظيم (ردالمحتار باب صفة الصلوة قبيل مطلب في اطالة الرکوع للجائي ج۱ص۴۲۰ – ۴۲۲، ط.س. ج۱ ص۴۹۳).

دسلام څخه وروسته له دعا پرته دمفتي تلل څنګه دي؟ سوال: (۲۹۱) دلمانځه څخه وروسته دامام څخه مخکي دعا غوښتل او تلل څنګه دي؟

جواب: بيشکه دا فعل که چيري دضرورت شرعي څخه پرته وي نو خلاف سنت او مکروه دی او ددي عادت جوړول ګناه ده، قال عليه الصلوة والسلام انما جعل الامام ليؤتم به فقط. والله تعالی اعلم، (في المشکوة عن انس ان النبي صلی الله عليه وسلم حضهم علی الصلوة ونهاهم ان ينصرفوا قبل انصرافه من الصلوة. رواه ابوداود اهـ اوقدوة المشائخ عبدالحق دهلوي رحمه الله په اشعة اللمعات ص۴۴۷، کي ليکلي دي: نبي کريم ﷺ ددي څخه نهی کړيده چي دده صلی الله عليه وسلم دتللو څخه مخکي ولاړ سي په داسي ډول چي مخکي له هغه څخه سلام وګرځوي او ولاړ سي، اويا دسلام ګرځولو څخه وروسته مخکي له دي چي پيغمبر ﷺ پورته سي دوی پورته سي، او ددعا اوذکر په انتظار کي نه کښيني. نهی په لومړي کي تحريمي او په وروستی کي تنزيهي ده. انتهی جميل الرحمن.

په درود کی دسيدنا ډيرول څنګه دي؟ سوال: (۲۹۲) کم درود چي دتشهد څخه وروسته ويل کيږي چي دسيدنا څخه پرته مروي دی، نو پرته له سيدنا څخه يي لوستل په کار دي او که دسيدنا سره؟

جواب: دسيدنا لفظ په زياتولو کي څه باك نسته مګر په تشهد دلمانځه کي چي څنګه وارد سوي دي دسيدنا له لفظ څخه پرته هم هغه ډول ويل غوره دي. [1]

چي مقتدي ددرود څخه وروسته دعا لا نه وي لوستي او امام سلام وګرځوي نو هغه څه وکړي؟ سوال: (۲۹۳) که چيری امام سلام وګرځوي او مقتدي يواځي التحيات او يواځي درود ويلی وي دعا يي نه وي ويلي نو ايا مقتدي ته هم دامام سره سلام ګرځول په کار دي او که له دعا څخه وروسته يي وګرځوي؟

جواب: په دي صورت کي دي مقتدي دامام سره سلام وګرځوي. [2] فقط

---

[1] وصلی علی النبي ﷺ الخ وندب السيادة لان زيادة الاخبار بالواقع عين سلوك الادب فهو افضل من ترکه ذکره الرملي الشافعي وغيره وما نقل لا تسودوني في الصلوة فکذب (درمختار) قال سئل محمد عن الصلوة علی النبي صلی الله عليه وسلم فقال يقول اللهم صل علی محمد وعلی ال محمد الخ وهي الموافقة لما في الصحيحين وغيرهما الخ واعترض بان هذا مخالف لمذهبنا لمامر من قول الامام من انه لوزاد في تشهده او نقص فيه کان مکروها قلت فيه نظر فان الصلوة زائدة عل التشهد (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۷۸ – ۴۷۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۵۱۲). ظفير

[2] ولو سلم (الامام) والمؤتم في ادعية التشهد تابعه لانها سنة والناس عنه غافلون (الدر المختار) قوله في =

دلمانځه څخه وروسته لا اله الا الله په لوړ اواز سره ويل څنګه دي؟ سوال: (۲۹۴) دفرضو له جماعت څخه وروسته دسلام ګرځولو په مهال، (لاالہ الااللہ) په لوړ اواز سره ويل څنګه دي؟

جواب: دا هم جايز دي، مګر په کرار اواز سره يې ويل غوره دي. (۱) فقط

په رکوع کې دتطبيق روايت؟ سوال: (۲۹۵) مولوي ثناء الله په خپل کتاب (داهل حديثو مذهب) ص۵۳ کي ليکي چي عبدالله بن مسعود ﷺ به درکوع په وخت کي تطبيق کوی دواړه لاسونه به يي پر زنګونونو باندي نه اينبودل لکه چي په صحيح مسلم کي دهغوي همدا مذهب ثابت دی، په دي خاطر دا سنت صحيح دي اوکه لغوه؟

جواب: دا کيسه دتطبيق في الرکوع صحيح ده، ددي تاويل عالمانو دا فرمايلي دي چي ممکنه ده چي ددي نسخ هغوی ته معلومه سوي نه وي يا دهغوي مذهب دتخيير وي والتفصيل في الکتب. (۲) فقط

دلمانځه په قاعده کی مختلفي دعاګاني: سوال: (۲۹۶) که چيري څوك دلمانځه په قاعده کي کله يوه اوکله بله دعا وايي دحنفيانو په نزد خو ممانعت نسته؟

جواب: څه ممانعت نسته. (۳) فقط

که څوک درکوع په تسبيحاتوکی عظيم نه سي ويلای هغه کريم ووايي که نه؟ سوال: (۲۹۷) څوك چي دسبحان ربي العظيم الفاظ ادا کولای نه سي بلکي په رکوع کي دسبحان ربي العظيم پرځای سبحان ربي العجيم وايي هغه ته دعظيم په ځای دسبحان ربي الکريم تعليم ورکول صحيح دی او که نه؟

جواب: په دي صورت کي په ځای دسبحان ربي العظيم دسبحان ربي الکريم تعليم صحيح دی ترهغه وخته پوري چي هغه دعظيم لفظ صحيح کړي سي. (۴) فقط

= ادعية التشهد يشمل الصلوة على النبي صلى الله عليه وسلم (ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل اراد الشروع ص۴۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۹۲). ظفير

(۱) وعن المغيرة بن شعبة ان النبي ﷺ ان يقول في دبركل صلوة مكتوبة لا اله الا الله وحده لاشريك له الخ (مشكوة، باب الذكر بعد الصلوة ص۸۸). ظفير

(۲) عن عبدالرحمن السلمى قال قال لناعمر بن الخطاب ان الركب سنته لكم فخذوا بالركب الخ والعمل على هذا عند اهل العلم من اصحاب النبي ﷺ والتابعين ومن بعدهم لا اختلاف بينهم الا ماروى عن ابن مسعود وبعض اصحابه انهم كانوا يطبقون، والتطبيق منسوخ عند اهل العلم، قال سعدبن ابي وقاص كنا نفعل ذلك فنهينا عنه وامرنا ان نضع الاكف على الركب (ترمذي، باب ماجاء في وضع اليدين على الركتبين في الركوع ص۳۵ ج۱). ظ

(۳) وصلى على النبى عليه السلام الخ ودعا بما يشبه الفاظ القران والادعية الماثورة لما روينا من حديث ابن مسعود قال له النبي عليه السلام ثم اختر من الدعاء اطيبها واعجبها اليك (هدايه باب صفة الصلوة جلد اول ص۱۰۳). ظفير =

ددواړو سجدو په مینځ کی دعا: سوال: (۲۹۸) ددواړو سجدو په مینځ کي دا دعا لوستل جائزدي اوکه نه؟ اللهم اغفر لي وارحمني الخ؟

جواب: دادعا په مینځ دسجدتین کي جائز ده او په حدیث کي وارده ده، دعا داده اللهم اغفر لي وارحمنی وعافنی واهدنی وارزقنی وارفعنی واجبرنی ([1]). فقط

دشهادت دګوتی دپورته کولو وجه: سوال: (۲۹۹) په التحیات کي دشهادت دکلمي دويلو په مهال دشهادت دګوتي پورته کولو څه وجه ده؟

جواب: په التحیات کي دشهادت دکلمي دويلو په مهال په سبابه ګوته سره دتوحید اشاره کیږي ددي لپاره چي څنګه په ژبي سره (اشهد ان لا اله الا الله الخ) ویل کیږي چي ددي مطلب دتوحید اقرار دی همدغه ډول دجوارحو په فعل سره هم څرګند کړل سي ([2]). فقط

دښځو په سجده کي رسته لوري ته پښې ایستل ثابت دي اوکه نه؟ سوال: (۳۰۰) په هندوستان کي ښځي دسجدي په حالت کي دواړه پښې رسته لوري ته باسي، مګر دا خبره مي په کم کتاب کي دپلټلو سره سره په نظر رانغله دعالمګیري او داسي نورو څخه څرګندیږي چي په سجده کي ښځي ته پښه کښینول په کار دي او دروي دي نه، رسته لوري ته بي تیستل نه ثابتیږي، تحقیق څه دی؟

جواب: په دي اړه چي تاسو څه لیکلي دي اوکم روایات مو نقل فرمایلي دي همدغه ډول په شامي کي دي او کبیري شرح منیه کي دي: واما المرأة فانها تنخفض اي تتضامن وتتسفل في السجود وتلزق بطنها بفخذيها وتضم ضبعيها وهذا تفسير الانخفاض وذلك لان مبني امرها على الستر فكان السنة في حقها ماكان استر من الهيئات ([3]) الخ نو غالبا په دي وجي سره چي دښځو په بهر ایستلوکي تسفل اوټیټوالی اوپیوستوالی زیات

([4]) السنة في تسبيح الركوع سبحان ربي العظيم الا ان لايحسن الظاء فيبدل به الكريم لئلا يجري على لسانه العزيم فتفسد به الصلوة كذا في شرح درر البحار فليحفظ (ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۲۲). ظفير

([1]) وعن ابن عباس قال كان النبي ﷺ يقول بين السجدتين اللهم اغفرلي وارحمني واهدني وعافني وارزقني رواه ابوداود والترمذي (مشكوة باب السجود وفضله ص۸۴). ظفير

([2]) نو هغه ﷺ به په دي ګوتي سره دالله ﷻ وحدانیت ته اشاره کوله (اشعة اللمعات باب التشهد ج۱ ص۴۲۸) اشار باصبعه ثم قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لهي اشد على الشيطان من الحديد (مشکوة) دتوحید داشاري په کولو سره پرایمان ټینګار، او دلمونځ کوونکي په کفر اوشرك کي دلویدلو څخه دشیطان دطمع پریکول مینځ ته راځي (ایضا ج۱ ص۴۳۴). ظفير

([3]) غنية المستملي ص۳۱۳. ظفير

كيدى سى او دتورك في التشهد لپاره تمهيد دى، ددي لپاره دا معمول سو، نور ددي څخه زيات ددي تحقيق له احقر سره هم نسته. فقط

پرسينه باندي لاسونه تړل صحيح دي كه نه؟ سوال: (۳۰۱) پرسينه باندي لاسونه تړل صحيح دي اوكه نه؟

جواب: دحنفيانو په نزد لاسونه دنامه څخه لاندي تړل سنت دي [۱]. فقط

په تشهدكى گوته پورته كول څنګه دي؟ سوال: (۲۰۲) په تشهد كي گوته پورته كول څنګه دي، داحنافو علماوو تر مينځ اختلاف دى، ځيني ورته مستحب وايي، او په خلاصه كيداني كي يي حرام ليكلي دي، هغه معتبر دي اوكه نه؟

جواب: معتبرو فقهاؤ رفع سبابه سنت ليكلي ده په درمختار كي يي ديوځو كتابونو په حوالي وركولو سره دا سنت ثابته كړي ده او نه پورته كول يي خلاف دروايت او درايت بللي دي او امام محمد رحمه الله په موطا كي مذهب دامام اعظم رحمه الله رفع سبابه ليكلى دى، نو دخلاصه كيداني او داسي نورو په حوالي سره دي ته حرام ويل غلط دي او تفصيل ددي دفقهي په كتابونو كي موجود دى، درمختار على هامش الشامي، فتح القدير او داسي نور كتل په كار دي، په دي اړه دي دخلاصه كيداني دقول اعتبار ونه كړل سي هغه صريحه غلطي كړي ه چي سنت كارته يي حرام ويلي دي. [۲] فقط

رفع سبابه او حضرت مجدد صاحب رحمه الله: سوال: (۳۰۳) جواب موصول سو. مخالفينو الحمد لله تسليم كړى، خو دا يي وويل چي دكيداني اوداسي نورو قول ټولو علماوو رد كړى دى خوحضرت مجدد الف ثاني سرهندي رحمه الله دمكتوب ص۳۱۲ په شرحه كي ليكلي دي بلكه دمكتوب پرحاشيه باندي يي قول دامام محمد رحمه الله په باره درفع سبابه

---

(۱) وضع الرجل يمينه على يساره تحت سرة الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۵۴، ط.س. ج۱ ص۴۸۷). ظفير

(۲) ولا يشير بسبابته عند الشهادة وعليه الفتوى كما في الولوالجبة والتجنيس وعمدة المفتي وعامة الفتاوى، لكن المعتمد ما صححه الشراح ولاسيما المتاخرون كالكمال والحلي والبهنسي والباقلاني وشيخ الاسلام الجد وغيرهم انه يشير لفعله عليه الصلوة والسلام ونسبوه إلى محمد والامام في متن دررالبحار وشرحه غرر الاذكار المفتي به عندنا انه يشير باسطا اصابعه كلها وفي الشرنبلالية عن البرهان الصحيح انه يشير مسبحته وحدها يرفعها عند النفي ويضعها عند الاثبات واحترز بالصحيح عما قيل لايضر لانه خلاف الدراية والرواية وبقولنا بالمسبحة عما قيل يعقد عند الاشارة اهـ وفي العيني عن التحفة الاصح انها مستحبة وفي المحيط سنة (درمختار) وفي المحيط انها سنة يرفعها عند النفي ويضعها عند الاثبات هو قول ابي حنيفة ومحمد رحمهما الله وكثرت به الاثار والاخبار فالعمل به اولى آهـ فهو صريح ان المفتى به هو الاشارة بالمسبحة الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۷۴ ج۱). ظفير

کي رد کړی دی او عدم رفع ته یي ترجیح ورکړي ده، شرعا ددي څه جواب دی؟
جواب: دمجدد الف ثاني رحمه الله په اولاد امجاد کي هم ځینو حضراتو دا تحقیق کړی دی چي رفع سبابه له سنت څخه ثابته ده، ددي لپاره په دي باندي عمل کول په کار دي اوکله چي ډیرو فقهاوو او محققینو دحنفیانو رفع سبابي ته ترجیح ورکړي ده او اختیار کړي یي ده نو مقلدینو حنفیانو ته دخپلو فقهاوو قول اخیستل په کار دي څنګه چي په خپله حضرت مجدد صاحب په خپلو مکتوباتو کي په ډیرو ځایونو کي ددي تصریح فرمایلي ده چي دشریعت په احکامو کي دائمه مجتهدینو او فقهاوو قول اخیستل اړین دی، په دي کي دحضرت جنید بغدادي او حضعرت شبلي او دنورو اولیاؤ کبارو او مجتهدین في الطریقت قول معتبر نه دی او دهغوی تقلید جائز نه دی. (۱) فقط

په ناسته په لمونځ کولو کي رکوع څرنګه وکړل وی؟ سوال: (۳۰۴) که چیري په ناسته لمونځ کوي نو درکوع کولو کمه اندازه دد؟
جواب: وقال في الشامي ولو کان یصلي قاعداً ینبغي ان یحاذي جبهته قدام رکبته لیحصل الرکوع آه قلت ولعله محمول علی تمام الرکوع و الا فقد علمت حصوله باصل طاطاة الرأس اي مع انحناء الظهر، (۲) په دي خاطر څرګنده سوه چي په ناسته په لمونځ کولو کي کامله رکوع داده چي تندی دزنګونانو مقابل سي. فقط

له تحریمه څخه وروسته نوري دعاګاني: سوال: (۳۰۵) دتکبیرِ تحریمه څخه وروسته په فرض لمانځه کي چي پرځای دسبحانك اللهم نوري دعاګاني دصحاح په کتابونو کي واردي دي دهغو لوستل په فرض لمانځه کي منفر دته څنګه دي؟
جواب: حنفیانو دغه دعاګاني پرنوافلو باندي محمول کړي دي، ځکه دي نوهغه یوازي په نوافلو کي وایي. (۳) فقط

دخشوع دنیستوالي په صورت کي دنفلو راګرځول څنګه دي؟ سوال: (۳۰۶) که چیري په لمانځه کي خشوع ونه سي او راویي ګرځوي نو څه بدی خو نسته؟ یا دغیر الله په نظر راتلو سره نیت مات کوي، په نفلو کي داسي کول څنګه دي؟

---

(۱) والاصح کما في السراجیه انه یفتی بقول الامام علی الاطلاق ثم بقول الثاني ثم بقول الثالث الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مقدمة ص۲۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۷۰). ظفیر
(۲) ردالمحتار باب صفة الصلوة بحث الرکوع والسجود ج۱ ص۴۱۲، ط.س. ج۱ ص۴۴۷. ظفیر
(۳) وقرء کما کبر سبحانك اللهم الخ مقتصرا علیه فلا یضم وجهت وجهي الا في النافلة الخ (درمختار) لحمل ما ورد في الاخبار علیها فیقرء فیها اجماعا الخ وفي الخزائن وما ورد محمول علی النافلة بعد الثناء في الاصح (ردالمحتار باب صفة الصلوة جلد اول ص ۴۵۵ - ۴۵۶، ط.س. ج۱ ص۴۸۸). ظفیر

جواب: راګرځوي دي نه او نيت دي هم نه ماتوي په داسي کولو سره شيطان ته زياته موقع دوسو سي حاصليږي. (١)

چي تسبيح پوره ونه وايي نو څه حکم دی؟ **سوال**: (٣٠٧) عاميان خلګ په لمانځه کي درکوع تسبيح سبحان ربي العظيم پوره نه وايي نو لمونځ يي کيږي او که نه؟

جواب: لمونځ يي کيږي. (٢) فقط

قراءت يوازي په دوه رکعتونو کی ويل کيږي: **سوال**: (٣٠٨) دوه رکعته تش او دوه رکعته ډك ولي دي؟

جواب: داحاديثو اودصحابه کرامو له اثارو څخه داسي ثابت دي چي نبي کريم ﷺ په لومړيو دوو رکعتو کي فاتحه او سورت دواړه لوستلی دی، او په اخري دوو رکعتو کي يي يوازي سورت فاتحه لوستلي ده، ځکه نو حنفيانو همدا ډول کول غوره بللي دي. (٣)

په لمانځه کی لاسونه پرکم ځای وتړي؟ **سوال**: (٣٠٩) دلمانځه په داخل کي لاسونه تړل په کم دليل ثابت دي؟ دلائل نقليه را وليږئ !

جواب: وعن وائل بن حجر انه رأى النبی ﷺ رفع يديه حين دخل في الصلوة كبر ثم التحف بثوبه ثم وضع يده اليمنى على اليسري، الحديث، رواه مسلم، و عن سهل بن سعد قال كان الناس يؤمرون ان يضع الرجل اليد اليمني على ذراعه اليسري في الصلوة، رواه البخاري، ددې دواړو حديثونو څخه په لمانځه کي لاسونه تړل ثابت سول. فقط

دالله اکبر اول الف راکشول لمونح ماتوي: **سوال**: (٣١٠) يوامام يابل څوك چي رکوع يا بل رکن ته دتللو په وخت کي آلله اکبر وايي لمونځ به يي وسي اوکه نه؟

جواب: دالله دلفظ پرهمزه باندي او دغه ډول داکبر په همزه باندي مد کول يعني ددي دواړو همزو کشول، لمونځ ماتوونکي غلطي ده ددي څخه ځان ساتل لازمي دي. (٤)

---

(١) فلو اشتغل قلبه بتفكر مسئلة مثلاً في اثناء الاركان فلا تستحب الاعادة وقال البقالي لم ينقص اجره الا قصر (ردالمحتار باب شروط الصلوة مطلب في حضور القلب والخشوع ج١ ص٣٨٧، ط.س. ج١ ص٤١٧). ظفير

(٢) والتسبيح فيه ثلاثا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٤٤، ط.س. ج١ ص٤٧٤). ظفير

(٣) عن أبي قتادة قال كان النبي صلى الله عليه وسلم يقرء في الظهر في الاوليين بام الكتاب وسورتين وفي الركعتين الاخريين بام الكتاب ويسمعنا الاية احيانا الحديث متفق عليه (مشكوة باب القراءة في الصلوة ص ٧٩) واكتفي المفترض فيما بعد الاوليين بالفاتحة فانها سنة على الظاهر ولو زاد لاباس به (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ص٤٧٧ ج١، ط.س. ج١ ص٥١١). ظفير

(٤) اذا اراد الشروع في الصلوة كبر الخ بالحذف اذ مد الهمزتين مفسد وتعمده كفر (الدر المختار على هامش رد المحتار باب صفه الصلوة ج١ ص٤٤٨، ط.س. ج١ ص٤٧٩). ظفير

<u>دیوه استفسار جواب</u>: **سوال**: (۳۱۱) د(اتمام الخشوع) رساله درلیږم تر کتني لاندي یي ونیسئ، او سمي اوناسمي یي راپه ګوته کړئ؟

جواب: د(اتمام الخشوع) رساله بنده وکتله، هیڅ یو صریح حدیث په دې باره کي نه دی نقل کړی سوی چي دهغه څخه بعد الرکوع صراحة لاسونه تړل ثرګند سي بلکي روایت دحضرت علی ﷺ چي په ص۷ باندي منقول دی چي دهغه الفاظ دا دي: انه کان اذا قام الی الصلوة وضع یمینه علی الشمال فلا یزال کذلك حتی یرکع، ددي څخه دا څرګنده سوه چي وضع یمین علی الشمال به یواځي تر رکوع پوري وي، په هر حال دحنفیانو کثرهم الله تعالی اوجمهورو سلفو او خلفو همدا مذهب دی چي وروسته تررکوع لاسونه پرېښودل کیږي، بیا دا دتعجب خبره ده چي تاسو دبنده (یعني زما) رایه معلوموی، دبنده رایه دخپلو امامانو او جمهورو څخه خلاف څه رنګه کیدای سي. فقط

<u>امین دي کرار ویل کیږي</u>: **سوال**: (۳۱۲) امین په کرار ویلو سره مسنون دي اوکه په لوړ اواز سره؟

جواب: امین په کرار ویلو سره مسنون دي دحنفیانو په نزد: عن علقمة بن وائل عن ابیه ان النبی صلی الله علیه وسلم قرأ غیر المغضوب علیهم ولا الضالین فقال امین وخفض بها صوته ولما اختلف في الحدیث عدل صاحب الهدایة الی ما روی عن ابن مسعود انه کان یخفي فانه یفید ان المعلوم منه علیه السلام الاخفاء قلت مع انه الاصل في الدعاء لقوله تعالی: ادعوا ربکم تضرعاً وخفیة، ولا شک أن امین دعاء فعند التعارض ترجح الاخفاء بذلک وبالقیاس علی سائر الاذکار والادعیة ولان امین لیس من القرآن اجماعًا فلا ینبغی ان یکون فیه صوت القران کما لا یجوز کتابته في المصحف. (۱)

<u>رفع یدین</u>: **سوال**: (۳۱۳) رفع یدین کول څنګه دي؟

جواب: رفع یدین پرته له اول تکبیر څخه دحنفیانو په نزد منسوخ دي ځکه چي جلیل القدر صحابه وو ﷺ به نه کوی: عن البراء بن عازب قال کان النبی ﷺ اذا کبر لافتتاح الصلوة رفع یدیه حتی یکون ابهاماه قریبا من شحمتي اذنیه ثم لا یعود عن الاسود قال رأیت عمر بن الخطاب ﷺ یرفع یدیه في اول تکبیرة ثم لا یعود، قال ابو جعفر فهذا عمر ﷺ لم یکن یرفع یدیه ایضًا الا في التکبیرة الاولی في هذا الحدیث وهو حدیث صحیح

(۱) وأمن الامام سرا کماموم ومنفرد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۵۹، ط.س. ج۱ ص۴۹۲). ظفیر

وفعل عمر هذا وترك اصحاب الرسول الله ﷺ اياه على ذلك دليل صحيح ان ذلك هو الحق الذي لا ينبغي لاحد خلافه. (۱)

درفع اليدين دمنسخ کيدلو دليل: **سوال**: (۳۱۴) رفع اليدين چي پرته له اووه ځايونو څخه منسوخ دي، نو څه دليل يي دی؟

جواب: رفع اليدين پرته له اوو ځايونو منسوخ دي: والدليل المجمل للكل ماروى عن النبي ﷺ انه قال لا ترفع الايدي الا في سبع مواطن وعد منها تكبيرة الافتتاح وتكبيرة القنوت وتكبيرات العيدين وذكر الاربع في الحج كذا في الهداية ثم هذا عندنا وقال الشافعي يرفع يديه عندالركوع والرفع منه لانه عليه السلام فعل ذلک ولنا ماروينا وما رواه محمول ابتداء وكذا نقل عن ابن الزبير رضي الله عنه فانه رأى رجلا يفعل هذا فقال له لا تفعل ليس هذا بشيئ فعله رسول الله ﷺ ثم تولى كذا في الهداية والكفاية وقد روي الطبراني بسنده عن ابن ابي ليلى عن الحكيم عن المقسم عن ابن عباس عنه عليه الصلوة والسلام. (۲)

دسورت او فاتحي تر مينځ بسم الله: **سوال**: (۳۱۵) په لمانځه کي بسم الله دسورة فاتحي څخه وروسته او دسورت څخه مخکي لوستل په کار دي اوکه نه؟ که چيري ولوستل سي نو په زوره اوکه په کرار اواز سره؟

جواب: ددرمختار عبارت دا دی: لا تسن بين الفاتحة والسورة مطلقا ولو سرية ولا تكره اتفاقا (۳) الخ، ددي حاصل دا دی چي دسورة په ابتداء کي بسم الله ويل نه مسنون دي اونه مکروه دي او مدققينو داخبره راجحه ګڼلي ده، چي لوستل بهتر او مستحب دي، په شامي کي راغلی دي: ولذا صرح في الذخيرة والمجتبى بانه ان سمي بين الفاتحة والسورة المقروءة سرًّا او جهرا كان حسنا عند ابي حنيفة رحمه الله ورجحه المحقق ابن الهمام (۴) الخ. فقط

تر نامه لاندي لاسونه تړل: **سوال**: (۳۱۶) حنفيه په لمانځه کي کم ځای لاسونه تړي، دنامه څخه پورته که دنامه څخه کښته مفتی به او معمول به روايت څه دی؟ اولويت په کم کي دی؟

---

(۱) شرح معانی الآثار ج۱ ص۱۳۲ – ۱۳۳ باب التكبير للركوع الخ. ظفير
(۲) ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ص۴۷۳، ط.س. ج۱ص۵۰۶ وفتح القدير باب صفة الصلوة ج۱ ص۲۲۸. ظ
(۳) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۵۷، ط.س. ج۱ ص۴۹۰. ظفير
(۴) ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۵۸، ط.س. ج۱ ص۴۹۰. ظفير

جواب: دحنفیانو په نزد تحت السره والا حدیث اخیستل سوی او عمل ورباندي سوی دی، فوق السره والاحدیث معمول به نه دی او په خلاف اولویت کي لمونځ په هر ډول کیږي (۱) فقط (یعضهما اي الرجل تحت السرة الخ قال الشیخ کمال الدین بن الهمام کون الوضع تحت السرة او الصدر لم یثبت فیه حدیث یوجب العمل فیحال علی المعهود من وضعها حال کون قصد التعظیم في القیام والمعهود في الشاهد منه تحت السرة وذکر عن علی من السنة في الصلوة وضع الکف علی الکف تحت السرة رواه ابوداود واحمد واللفظ له الخ (غنیة المستملي ص۲۹۴، ظفیر).

<u>په قرآءت او تکبیر کی دلوړ او کرار اواز کچه</u>: **سوال**: (۳۱۷) په لمونځ ورکولو کي دامام قراءت ویل او ځیني تکبیرات په دومره لوړ اواز سره ویل چي دجومات څخه دباندي تر سړك پوري واوریدل سي، او ځیني تکبیرات دومره کرار ویل چي دویم دریم صف والا یي هم وانه وریدلای سي، مثلاً درکوع تکبیر په کرار اواز سره او دقومي تکبیر په ډیر لوړ اواز سره او دسجدې تکبیر په کرار او دجلسي تکبیر په زوره، داسي کول سنت دي اوکه بدعت اوکه څه دي؟ ایاپه دغه ډول سره یو تکبیر لوړ اوبل تکبیر کرار په اول قرن کي چا کړی دي که نوي اختراع ده، بینوا تؤجروا !

جواب: امام ته دقراءت او تکبیرونو په په زوره والي کي مینځنی طریقه غوره کول ښایي او داړتیا په کچه اواز لوړول ښایي، او دا فرق او توپیر دتکبیرونو په مینځ کي چي ځیني په ډیر لوړ اواز سره ویل او په ځینو کي داړتیا تر کچي هم کمی کول ناوړه او بي اصله دي په شریعت کي ددي هیڅ بنسټ نسته (۲) یوازي په سلام کي خو فقهاؤ دا لیکلي دي چي دویم سلام دي له اول سلام څخه لږه اندازه په کرار ږغ سره وایي، کما في الدرالمختار: وسن جعل الثاني اخفض من الاول الخ نو پرته له دي څخه دبل کم ځای په لوړوالي کي ددرجاتو توپیر نسته. (۳) فقط

---

(۱) ووضع لرجل یمینه علي یسار تحت سرته اخذ رسغها بخنصره وابهامه هو المختار (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، باب سرقة الصلوة ج۱ ص۴۵۴، ط.س. ج۱ ص۴۸۲). ظفیر

(۲) ویجهر الامام وجوبا بحسب الجماعة فان زاد علیه اساء (درمختار) وفي الزاهدي عن ابي جعفر لو زاد علی الحاجة فهو افضل الا اذا جهد نفسه او اذی غیره قهستاني (ردالمحتار فصل في القراءة ج۱ ص۴۹۷، ط.س. ج۱ ص۵۳۲) وجهر الامام بالتکبیر بقدر حاجة الاعلام بالدخول والانتقال وکذا بالتسمیع والسلام واما المؤتم والمنفرد فیسمع نفسه (درمختار) قوله بقدر حاجة الاعلام الخ وان زاد کره قلت هذا اذا یفحش الخ والزائد علی قدر الحاجة کما هو مکروه للامام یکره للمبلغ (ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب في التبلیغ خلف الامام ج۱ ص۴۲۳، ط.س. ج۱ ص۴۷۵). ظفیر =

په تشهد کې دشهادت ګوته پورته کول: **سوال**: (۳۱۸) په تشهد کې دشهادت ګوته پورته کول مسنونه ده که نه؟

جواب: درفع سبابه متعلق روايات: في الدرالمختار لكن المعتمد ما صححه الشرح ولاسيما المتاخرون كالكمال والحلبى البهنسي والباقاني وشيخ الاسلام الجد وغيرهم انه يشير لفعله عليه الصلوة والسلام ونسبوه لمحمد والامام بل في متن دررالبحار وشرحه غررالاذكار المفتى به عندنا انه يشير الخ وفي الشرنبلالية عن البرهان الصحيح انه يشير بمسبحته وحدها يرفعها عند النفي ويضعها عند الاثبات واحترز بالصحيح عما قيل لايشير لانه خلاف الدراية والرواية (۱) الخ درمختار، اوپه شامي کې راغلي دي: وفي المحيط انها سنة يرفعها عند النفي ويضعها عند الاثبات وهو قول ابي حنفية رحمه الله ومحمد رحمه الله وكثرت به الآثار والأخبار فالعمل به اولى. آه فهو صريح في ان المفتي به هو الاشارة بالمسبحة مع عقد الاصابع الخ. وقال في الشرح الكبير قبض الاصابع عند الاشارة هو المروى عن محمد في كيفية الاشارة وكذا عن ابي يوسف في الامالي وهذا فرع تصحيح الاشارة وعن كثير من المشايخ لا يشير اصلا وهو خلاف الدراية والرواية فعن محمد رحمه الله ان ماذكره في كيفية الاشارة قول ابي حنيفة رحمه الله انتهي ومثله في فتح القدير وفي القهستاني وعن اصحابنا جميعًا انه سنة فيحلق ابهامه اليمني ووسطاها ملصقًا رأسها برأسها ويشير بالسبابة (۲) الخ شامي ص۳۲۴ ج۱، ددې رواياتو څخه څرګنده سوه چې په تشهد کې دشهادت ګوته پورته کول مسنونه ده او ددې طريقه دا ده چې درسته لاس دغتې ګوتې اومنځنۍ ګوتې سرونه يوځاى کړي او حلقه جوړه کړي بيا دشهادت په ګوتې سره اشاره وکړي. ظفير)

ښځه به په جلسه کې پښې څنګه ږدي؟ **سوال**: (۳۱۹) ښځې ته په سجده اوجلسه کې پښې څنګه ښودل په کار دي؟

جواب: دښځې لپاره درول دپښو سنت نه دي، في الشامي انها لا تنصب اصابع القدمين (۳) نو په سجده او جلسه کې دې پښې نه دروي او په جلسه تشهد اوداسې نورو کې دې پيوسته کښيني، في الشامي: وتتورك في التشهد (۴) الخ. فقط

---

(۳) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۹۱، ط.س. ج۱ ص۵۲۲. ظفير

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۷۴ – ۴۷۵، ط.س. ج۱ ص۵۰۸. ظفير

(۲) ردالمحتار، باب صفة الصلوة مطلب مهم في عقد الاصابع عند التشهد ص۳۷۵، ط.س. ج۱ ص۵۱۰. ظفير

(۳) ردالمحتار، باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۷۱. ظفير

(۴) ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۷۱، ط.س. ج۱ ص۵۰۸. ظفير

پريوه چيټائي باندي سړي اوښځه لمونځ كولاى سي: **سوال**: (۳۲۰) پر يوه چيټائي باندي چي سړى او ښځه كه هغه منكوحه وي اوكه نه وي پريوه ځاى ودريږي او لمونځ ادا كوي نو لمونځ يي كيږي اوكه نه؟

جواب: كه چيري هريو خپل خپل لمونځ ځانته كوي نولمونځ صحيح دى خوداجنبي ښځي سره يوځاى دريدل بد دي (۱) او كه چيري په لمانځه كي شريكوالى وي نو لمونځ به نه كيږي، والتفصيل في كتب الفقه. (۲) فقط

دسورت فاتحي او سورت تر مينځ بسم الله سراً ده اوكه جهراً؟ **سوال**: (۳۲۱) په لمانځه كي دسورة فاتحي څخه وروسته او دسورت په پيل كي بسم الله ويل په كار دي اوكه نه؟ كه يي لوستل په كار وي نو په لوړ اواز سره اوكه په كرار اواز سره ښايي، صاحب دهدايي تسميه په ابتداء دسورت كي منع كوي او صاحب ددرمختار ورته مستحب وايي په دي دواړو كي كمه خبره صحيح او دعمل وړ ده، او دبلي څه جواب دى، او بل دفاتحي په ابتداءكي دتسميي حكم ددي موافق دى اوكه مخالف، كه مخالف دى نو ولي؟

جواب: ددرمختار عبارت دا دى: لاتسن بين الفاتحة والسورة مطلقا ولو سرية ولاتكره اتفاقا (۳) الخ ددي حاصل دا دى چي په ابتداء دسورت كي بسم الله ويل نه مسنونه ده اونه مكروه ده او محققينو دا راجحه بللي ده چي لوستل يي بهتر او مستحب دي، په شامي كي راغلي دي: ولذا صرح في الذخيرة والمجتبى انه ان سمي بين الفاتحة والسورة المقرونة سرا اوجهرا كان حسنا عند ابي حنيفة ﷬ رجحه المحقق ابن الهمام (۴) الخ. (بسم الله كرار بايد ولوستل سي: اما الموضع الرابع فانها تخفي عندنا الخ عن انس ان رسول الله ﷺ كان يسر ببسم الله الرحمن الرحيم إلخ، غنية المستملي ص۳۰۱. ظفير)

دلوړ اواز په لمونځونو كي منفرد څه وكړي؟ **سوال**: (۳۲۲) ماښام، ماسختن اوپه سهار كي يوازي سړى هم لمونځ په لوړ اواز سره كولاى سي اوكه نه؟ او يوازي سړى به ربنا لك الحمد دسمع الله څخه وروسته كرار وايي اوكه په زوره؟

---

(۱) فمحاذاة المصلية لمصل ليس في صلاتها مكروهة لامفسد (درمختار) قول ليس في صلاتها بان صليا منفردين او مقتديا احدهما بامام لم يقتد به الاخر شرح المنية (ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص۵۳۷، ط.س. ج۱ ص۵۲۴). ظفير

(۲) واذا حاذته ولو بعضو واحد مرأة ولو امة مشتهاة الخ ولاحائل بينهما في صلوة الخ مطلقة مشتركة تحريمة واداء الخ فسدت صلاته (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص۵۳۴، ط.س. ج۱ ص۵۷۲).

(۳) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۵۷، ط.س. ج۱ ص۴۹۰. ظفير

(۴) ردالمحتار، باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۵۸، ط.س. ج۱ ص۴۹۰. ظفير

جواب: یوازي سړی هم په دغه لمونځونو کي لمونځ په لوړ اواز سره کولای سي (۱) او ترسمع الله وروسته دي ربنا لك الحمد کرار وایي. (۲)

لاسونه پر نامه سربیره تړل: **سوال**: (۳۲۳) په لمانځه کي تحریمه تړل پرنامه سربیره له حدیث څخه ثابت دي اوکه نه؟

جواب: پر نامه سربیره او لاندي لاسونه تړل دواړه دحدیث څخه ثابت دي، حنفیانو دزیر ناف حدیث معمول به جوړ کړی دی. (۳) فقط

له فاتحې څخه وروسته چوپتیا بیا سورت لوستل: **سوال**: (۳۲۴) امام دلمانځه نیت وتړی او دفاتحي څخه وروسته له یو څه چوپتیا څخه وروسته یي قراءت پیل کړی، په لمانځه کي څه نقص راغی؟

جواب: که چیري په قدر دامین ویلو اوبسم الله سرا ویلو یي سکوت کړی وي اوپه قراءت کي او همدومره اندازه تاخیر یي کړی وي، نو په لمانځه کي څه کمی نه راغی. (۴)

دفاتحې اوسورت څخه مخکي بسم الله: **سوال**: (۳۲۵) پرامام باندي په هر رکعت کي ضم دبسم الله دالحمد لله او سورت سره واجب دی اوکه نه؟ او دامام او منفرد لپاره مستحب دحنفیانو په نزد څه دی؟

جواب: وذکر في المحیط المختار قول محمد وهو ان یسمی قبل الفاتحة وقبل کل سورة في کل رکعة وفي الدرالمختار وکما تعوذ سمی الخ سرًا في الشامي ولهذا في الذخیرة والمجتبي بانه ان سمی بین الفاتحة والسورة المقروة سراً او جهراً کان حسنا عند ابي حنیفة رحمه الله ورجحه المحقق ابن الهمام (۵) الخ، ددي ټولو عبارتونو څخه واضحه سوه چي امام ته دالحمد څخه مخکي بسم الله لوستل سنت دي او ځیني دوجوب قائل دي، او دسورت څخه مخکي که څه هم مسنونه نه ده مګر مکروه هم نه ده بلکه مستحب او بهتره ده. فقط

---

(۱) ویخیر المنفرد في الجهر وهو افضل ویکتفي بادناه ان ادی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار وفصل في القراءة ج۱ ص۴۹۸، ط.س. ج۱ ص۵۳۳). ظفیر

(۲) جهر الامام بالتکبیر الخ وکذا بالتسمیع الخ واما المؤتم والمنفرد لیسمع نفسه (ایضاً باب صفة الصلوة جلد اول ص.... مطلب في التبلیغ خلف الامام، ط.س. ج۱ ص۴۷۵). ظفیر

(۳) یضع یمینه علی یساره بعد التکبیر الخ تحت السرة الخ وذکر عن علی من السنة لي الصلوة وضع الکف تحت السرة رواه ابوداود واحمد واللفظ له الخ (غنیة المستملي ص۲۹۴). ظفیر

(۴) وامن الخ الامام سرا کماموم ومنفرد (الدرالمختار باب صفة الصلوة) ان سمي بین الفاتحة والسورة المقروءة سرا او جهراً کان حسنا عند ابي حنیفة (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۵۸، ط.س. ج۱ ص۴۹۲). ظفیر

(۵) ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۵۷ – ۴۵۸، ط.س. ج۱ ص۴۹۰. ظفیر

له تكبير تحريمه څخه وروسته ارسال نسته: **سوال**: (۳۲۶) چي دڅنا څخه مخكي تكبير تحريمه ووايي نو لږ وخت ارسال او لاسونه ځوړوندول جايز دي اوكه نه؟ مولوي عبد الحي رحمه الله جايز ليكلي دي.

جواب: په در مختار كي راغلي دي: ووضع الرجل يمينه على يساره تحت سرته اخذا رسغها بخنصره وابهامه الخ كما فرغ من التكبير بلا ارسال في الاصح الخ قوله بلا ارسال هو ظاهر الرواية (۱) الخ ددي روايت څخه څرګنده سوه چي ارسال صحيح نه دی.

دامام رسته يا چپه لوري ته دګرځيدلو لپاره دمقتديانو مخصوصه شميره: **سوال**: (۳۲۷) دامسئله سمه ده اوكه نه چي ترڅو پوري له امام سره لس يابل كم مخصوص شمير مقتديان نه وي نو دسلام څخه وروسته دي رسته يا چپه لوري ته په راګرځيدلو سره نه كښيني؟

جواب: دا مسئله صحيح نه ده، كما في الشامي ولو دون عشرة، اي ان الاستقبال مطلق لا تفصيل فيه بين عدد وعدد الخ ولايلتفت الى ماذكره بعض شراح المقدمة من ان الجماعة إن كانوا عشرة يلتفت اليهم الخ فان هذا الذي ذكره لا اصل له في الفقه (۲) الخ.

دسجدی څخه دولاړيدلو په وخت کی په لاس تکيه کول جايز دي که نه؟ **سوال**: (۳۲۸) له سجدي څخه دپاڅيدلو په وخت كي په لاس تكيه كول او پاڅيدل پرته له عذره جايز دی كه مكروه؟ او پر زنګنونو باندي تكيه كول يعني اعتماد على الركبه كه څه هم چي جايزدی مګر ددي ترك مستحب دی كه نه؟ په فتاوى عالمګيري كي راغلي دي: لا يعتمد على الارض بل يعتمد على الركبة وترك الاعتماد مستحب الخ ددي عبارت څه مطلب دی اوپه دي صورت كي څه حكم دی؟

جواب: په درمختار كي راغلي دي: ويكبر للنهوض على صدور قدميه بلا اعتماد وقعود استراحة الخ، په شامي كي راغلي دي: قوله بلا اعتماد اي على الارض الخ قال في الكفاية اشار به الى خلاف الشافعي رحمه الله في موضعين احدهما يعتمد بيديه على ركبتيه عندنا وعنده على الارض الخ شامي ج۱ ص۳۴۰ (۳) نوڅرګنده سوه چي دحنفيانو په مذهب كي اعتماد على الركتبين دی او دامام شافعي رحمه الله په مذهب كي اعتماد على الارض دی، په دې خاطر پرته له عذره دي اعتماد على الارض نه كوي

---

(۱) ردالمحتار، باب صفة الصلوة جلد۱ ص۴۵۴، ط.س. ج۱ ص۴۸۷. ظفير

(۲) ردالمحتار باب صفة الصلوة قبيل فصل في القراءة جلد اول ص۴۹۲، ط.س. ج۱ ص۵۳۱. ظفير

(۳) ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۷۲ – ۴۷۳، ط.س. ج۱ ص۵۰۲. ظفير

بلكي په اعتماد على الركتبين كولو سره دي پاځيږي اوپه عالمګيري كي چي دا ذكر دي: وترك الاعتماد مستحب، ددي مطلب همدا دی چي ترك الاعتماد على الارض مستحب دی. ([1]) فقط

<u>دفاتحي خلف الامام او داسي نورو تحقيق</u>: سوال: (۳۲۹-۱) په كم حديث كي دالله جل جلاله يا درسول الله صلى الله عليه وسلم له لوري له فاتحي لوستلو خلف الامام منع كول ثابت دي؟

سوال: (۳۳۰-۲) ايا درسول الله صلى الله عليه وسلم له لوري په لمانځه كي پرنامه باندي دلاسونو دتړلو يا پرسينه باندي دلاسونو له تړلو منع كول راغلي دي؟

سوال: (۳۳۱-۳) ايا دالله جل جلاله يا درسول الله ﷺ دلوري په لمانځه كي دامين كرار ويلو يا دامين بالجهر ويلو څخه منع كول ثابت دي؟

(۴) په وترو كي درسول ﷺ رفع اليدين كول يا دكولو اجازت وركول.

(۵) په طاق ركعتونو كي درسول الله ﷺ جلسه استراحت كول يا له كولو څخه منعه كول ثابت دي اوكه نه؟

جواب: (۱) الله تعالى هم منع فرمايلي ده او رسول الله صلى الله عليه وسلم هم، قال الله تعالى: واذا قرء القران فاستموا له وانصتوا ([2]) وفي حديث مسلم واذا قرء فانصتوا ([3]).

(۲) وذكر عن على من السنة في الصلوة وضع الكف على الكف تحت السرة. رواه ابوداود واحمد واللفظ له ([4]) نو دحضرت علي ﷺ وضع الكف على الكف تحت السرة ته سنت ويل دلالت كوي پردي باندي چي دا فعل درسول الله صلى الله عليه وسلم دی.

(۳) دامين په كرار ويلو سره حكم اولاً دقران شريف څخه مفهوم كيږي: ادعوا ربكم تضرعًا وخفية، او دحديث الفاظ: وخفض واخفي به صوته ([5]) وارد دي چي نص دي پر اخفاء دامين باندي، اوروايت دابن مسعود ﷺ چي په هدايه كي ذكردی هغه هم دامين په اخفاء باندي دال دی ([6]) اوپه شرح منيه كي دحضرت وائل ﷺ روايت هم داخفاء امين

([1]) عالمګيري مصري الباب الرابع في صفة الصلوة فصل ثالث ص۷۰ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۷۵. ظفير

([2]) سورة الاعراف ركوع ۲۴. ظفير

([3]) مشكوة باب القراءة في الصلوة ص۸۱ واثار السنن باب في ترك القراءة خلف الامام في الجهرية. ظفير

([4]) غنية المستملي ص۲۹۴، وعن علقمة بن وائل بن حجر عن ابيه قال رأيت النبي ﷺ يضع يمينه على شماله تحت السرة. رواه ابن ابي شيبة واسناده صحيح (اثار السنن، باب وضع اليدين تحت السرة). ظفير

([5]) وګوري: اثار السنن باب ترك الجهر بالتامين. ظفير

([6]) لقول ابن مسعود اربع يخفيهن الامام وذكر من جملتها التعوذ والتسمية وامين (هدايه باب صفة الصلوة =

په سنت کيدلو کي ذکر دی.
(۴) قال ابن قدامة في المغني وقد روى عن ابن عمر ﷺ انه كان اذا فرغ من القراءة كبر، وفي الذخيرة ورفع يديه حذاء اذنيه وهو مروي عن ابن مسعود وابن عمر وابن عباس وابي عبيدة الخ وقال قبيله فان ذلك مروي عن علی وابن عمر وبراء بن عازب والقياس يدل فان التكبير للفصل والانتقال من حال الى حال ([1]) الخ، نو څرګنده سوه چي دوترو په دريم رکعت کي له قراءت څخه وروسته تکبير ويل او لاسونه پورته کول دعبدالله بن مسعود او ابن عباس او ابن عمر ﷺ او له داسي نورو څخه ثابت دي نو لامحاله دي حضراتو صحابه کرامو ﷺ به رسول الله ﷺ ليدلی وي او داسي به يي کول.
(۵) وعن ابي هريرة ﷺ قال كان النبى صلى الله عليه وسلم ينهض فى الصلوة على صدور قدميه ([2]) او دډېرو صحابهؤ څخه هم منقول دي كذا في شرح المنية. فقط
فاتحه خلف الامام، امين په لوړ اواز، لاسونه پورته کول اوپر سينه باندي دلاسو دترلو تحقيق:
سوال: (۳۳۲) په لاندينی طريقي سره لمونځ کول دفعل صحابه ﷺ او دقران اودحديث له مخي صحيح دي اوکه نه؟ (۱) په امام پسي فاتحه لوستل (۲) امين په لوړ اواز سره ويل (۳) لاسونه پورته کول (۴) لاسونه پرسينه باندي تړل، بينوا تؤجروا !
جواب: (۱) په امام پسي سورت فاتحه يا کم سورت لوستل په قران او احاديث صحيحه سره منع کړای سول دي، په قران شريف کي راغلي دي: واذا قرء القران فاستمعوا له وانصتو ([3]) الاية. او دمسلم په حديث کي راغلي دي: واذا قرأ فانصتوا ([4]) اوپه يل روايت کي راغلي دي: من كان له امام فقراءة الامام قراءة له ([5]) الحديث او كما قال صلى الله عليه وسلم.
(۲) په امين کي اخفاء مسنونه او مستحبه ده که څه هم په زوره ويلو سره هم لمونځ کيږي، مګر سنت طريقه دا ده چي امين کرار ووايي لانه دعاء وقال الله تعالى ادعوا ربكم تضرعاً وخفية ([6]) والاحاديث متعارضة فتعين المصر الى الاصل وهو الاخفاء.

= ص۹۲ ج۱). ظفير
([1]) غنية المستملی ص۳۹۷ بحث الوتر. ظفير
([2]) هدايه باب صفة الصلوة ص۱۰۱ ج۱ عن البخاري. ظفير
([3]) سورة الاعراف رکوع ۱۰۴. ظفير
([4]) آثار السنن، باب ترك القراءة خلف الامام في الجهرية ص۸۵ ج۱، مشكوة باب القراءة ص۸۱. ظفير
([5]) آثار السنن باب في ترك القراءة خلف الامام في الصلوة كلها ص۸۷ ج۱. ظفير
([6]) سورة الاعراف رکوع ۷. ظفير

(۳) لاسونه پورته کول پرته له تکبیر افتتاح څخه منسوخ سوي دي لکه څنګه چي روایت د: کان فترك، پردي باندي دال دی او دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه په حدیث کي راغلي دي: وعن علقمة قال لنا ابن مسعود رضی الله عنه الاصلی بکم صلوة رسول الله صلی الله علیه وسلم فصلي ولم یرفع یدیه الامرة واحدة مع تکبیرة الافتتاح ([1]) ددي څخه څرګندیږي چي اخري فعل دحضور ﷺ ترك دلاسونو دپورته کولو دي پرته دتکبیر افتتاح څخه.

(۴) لاسونه دنامه څخه لاندي تړل په کار دي: قال الهدایة ویعتمد بیدیه الیمني علی الیسری تحت السرة لقوله علیه السلام ان من السنة وضع الیمین علی الشمال تحت السرة الخ ولان الوضع تحت السرة اقرب الی التعظیم ([2]) وفي حدیث ابراهیم النخعي ما یدل علیه روی ابوحنیفه عن حماد عن ابراهیم النخعي ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یعتمد بیده الیمني علی الیسری تواضعًا الخ ([3]). فقط

سبابه پورته کول په کار دي او که نه؟ سوال: (۳۳۳) سبابه پورته کول ددي ځای حنفیان نه کوي او دامام صاحب یو قول دنه کولو لپاره وړاندي کوي؟

جواب: دسبابي دپورته کولو متعلق درمختار او شامي پوره تفصیل ورکړی دی اورفع يي راجح کړي ده اوډېرو کتابونو څخه يي را نقل کړي ده، له دي څخه وروسته مقلد ته دخلاف ګنجایش نسته، په موطا کي امام محمد رحمه الله په خپله فرمایي چي دا قول زموږ او زموږ داستاد امام ابو حنیفه رحمه الله دی. ([4]) فقط

دامین په زوره ویلو حدیث دکمی درجی دی؟ سوال: (۳۳۴) مخالفین وایي چي احادیث دامین بالاخفاء معلول او مجروح دي په دې خاطر په لوړ اواز امین ویل غوره دی او وایي چي په خپله حنفیانو ویلي دي چي امین په لوړ اوازسره په قوي حدیثونو سره ثابت دي، ددي اعتراض څه جواب دی، هیله لرو چي یوقوي حدیث به ولیکئ او دترجیح دلیل به هم ورسره وفرمایاست !

([1]) آثار السنن، باب ترك رفع الیدین في غیر الافتتاح ج۱ ص۱۰۳ ورسره وګورئ: غنیة المستملي صفة الصلوة ص۳۱۲. ظفیر

([2]) هدایه باب صفة الصلوة ج۱ ص ۹۵ – ۹۲. ظفیر

([3]) حاشیه هدایه، باب صفة الصلوة تحت قوله وضع الیمین ج۱ ص۹۲. ظفیر

([4]) لکن المعتمد ما صحح الشراح ولاسیما المتاخرون کالکمال والحلبي والبهنسي والباقاني وشیخ الاسلام الجد وغیره انه یشیر لفعله علیه الصلوة والسلام الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۷۴، ط.س. ج۱ ص۵۰۸). ظفیر

جواب: حديثونه په دواړه ډوله موجود دي يعني داخفاء اوجهر ددواړو خواوو احاديث موجود دي مګر داخفاء احاديثو ته ترجيح ده په سبب دقول دالله تعالى: ادعوا ربكم تضرعا وخفية. الاية ([1]) اوحديث صحيح هم موجود دى: انكم لا تدعون اصم ولا غائبا ([2]) او ابن مسعود ﷺ فرمايلي دي اربع يخفيهن الامام وذكر من جملتها التعوذ والتسمية وامين ([3]). فقط

په تشهدكى چى ګوته پورته كړي نو پركم لفظ به يې بيرته كښته كوي؟ سوال: (۳۳۵) په لمانځه كي دالتحيات ويلو په وخت كي چي ګوته د(اشهد ان لا اله الا الله) دويلو په مهال پورته كيږي هغه بيرته كم وخت كښته كول په كار دي؟

جواب: دمنيي په شرحه كي يي له امام حلواني څخه نقل كړي دي چي په (لا اله) باندي دي ګوته پورته كړي او په (الا الله) باندي دي كښيږدي. ([4]) فقط

دشهادت په ګوته سره اشاره: سوال: (۳۳۶) په لمانځه كي دشهادت ګوته پورته كول په ډيرو احاديثو سره ثابت دي خو معلومه نه ده چي ځيني فقهاء رحمهم الله يي ولي منع ګڼي، اوحرام ورته وايي، كه چيري په حنفي مذهب كي جايز وي نو تحرير يي وفرماياست !

جواب: حنفي محققينو فقهاوو هم دګوتي اشارې ته راجح فرمايلي دي اوپه همدي باندي فتوى اوعمل دى په در مختار كي راغلي دي دمنعي دروايت له نقل كولو څخه وروسته: لكن المعتمد ما صححه الشراح ولاسيما المتاخرون كالكمال والحلبى والبهنسي والباقاني وشيخ الاسلام الجد وغيرهم انه يشير لفعله عليه الصلوة والسلام ونسبوه لمحمد والامام بل في متن درالبحار وشرحه غرر الاذكار المفتي به عندنا انه يشير باسطا اصابعه كله والشرنبلالية عن البرهان الصحيح انه يشير بمسبحة وحدها الخ وفي الشامي فهو صريح في ان المفتي به هو الاشارة بالمسبحة مع عقد الاصابع على الكيفية المذكورة الخ جلد اول ص۳۴۱ شامي. ([5])

له دويم ركعت څخه به څنګه ولاړيږي؟ سوال: (۳۳۷- ۱) په دويم ركعت كي له قعدي څخه

([1]) سورة الاعراف ركوع ۷. ظفير

([2]) مشكوة باب ثواب التسبيح فصل اول ص ۲۰۱. ظفير

([3]) هدايه باب صفة الصلوة ص ۹۲. ظفير

([4]) يرفعها عند النفي ويضعها عند الاثبات (درمختار) وفي المحيط انها سنة يرفعها عند النفي ويضعها عند الاثبات وهو قول ابي حنيفة ومحمد وكثرت به الاثار والاخبار فالعمل به اولى (ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب مهم في عقد الاصابع عند التشهد ص۴۷۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۰۹). ظفير

([5]) ردالمحتار، باب صفة الصلوة جلد اول ص۴۷۴، ط.س. ج۱ ص۵۰۸. ظفير

وروسته چي كله دريږي نو لاسونه هم هغه ډول پرورنو كښيږدي او ودريږي كه پرزمكه باندي په تكيه كولو سره ودريږي؟

له سلام څخه په وروستني دعا كي دمقتدي برخه اخيستل: **سوال**: (٣٣٨-۲) مقتدي ته دسلام څخه وروسته په دعا كي برخه اخيستل ضروري ده اوكه مستحب؟

جواب: (١) لاسونه پرزنګونانو او ورنونو باندي په ايښودلو سره دريدل غوره دي اوكه چيري دضرورت په وجه پرځمكه لاسونه كښيږدي، او ودريږي نو داهم صحيح دی (١). فقط

(۲) مستحب دی. (۲) فقط

داستراحت جلسه صحيح ده اوكه نه؟ **سوال**: (٣٣٩) په لمانځه كي ددوو سجدو دختميدلو څخه بعد دلږ ساعت كښينستلو څخه وروسته دويم ركعت ته ولاړيدل جايز دي اوكه نه؟

جواب: دحنفيانو په نزد داستراحت جلسه له سجدي څخه وروسته ددويم او څلورم ركعت لپاره دولاړيدلو په وخت كي نسته (٣) داسي دي نه كوي. فقط

داشارې په وخت كي دګوتو حلقه جوړول جايز دي كه نه؟ **سوال**: (٣٤٠) دامام اعظم رحمه الله په نزد په وخت دتشهد دوسطى او ابهامې حلقه كول او دخنصر او بنصر له بندولو څخه وروسته اشاره كول جايز دي كه نه؟

جواب: په تشهد كي داشاره بالسبابه دا صورت چي په سوال كي ذكر سوى دی چي دابهامي او وسطى حلقه جوړه كړي او خنصره او بنصره بنده كړي دفقه حنفي په كتابونو كي يي هم دا ليكلي دي، او دا جايز دي اوپه شامي كي راغلي دي: فلذا قال في منية

(١) ويكبر للنهوض على صدور قدميه باعتماد وقعود استراحة ولو فعل لاباس (درمختار) بلا اعتماد اي على الارض قال في الكفاية اشار به الى خلاف الشافعي في موضعين احدهما يعتمد بيده على ركبتيه عندنا وعنده على الارض والثاني الجلسة الخفيفة الخ (ردالمحتار باب صفة الصلاة جلد اول ص٤٧٢، ط.س. ج١ ص٥٠٢).

(٢) ويستحب ان يستغفر ثلاثا ويقرء اية الكرسي الخ ويدعو ويختم بسبحان ربك (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ص٤٩٥ ج١، ط.س. ج١ ص٥٣٠) فاذا تمت صلوة الامام فهو مخير ان شاء انحرف عن يساره الخ وان شاء انحرف عن يمينه الخ وان شاء ذهب الى حوائجه لانه قضى صلوته الخ وان شاء استقبل الناس بوجهه الخ (غنية المستملي ص٣٢٠). ظفير

(٣) ويكبر للنهوض بلا اعتماد وقعود استراحة ولو فعل لاباس (درمختار) بلا اعتماد الخ اي على الارض قال في الكفاية اشار به الى خلاف الشافعي في موضعين احدهما يعتمد بيديه على ركبتيه عندنا وعنده على الارض والثاني الجلسة الخفيفة قال شمس الائمة الحلواني الخلاف في الافضل حتى لو فعل كما هو مذهبنا لاباس به عند الشافعي ولو فعل كما هومذهبه لاباس به عندنا كما في المحيط اهـ قال في الحلية والاشبه انه سنة اومستحب عند عدم العذر فيكره فعله تنزيها لمن ليس به عذر آهـ وتبعه في البحر واليه يشير قولهم لا باس فانه يغلب فيما تركه اولى (ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٧٢، ط.س. ج١ ص٥٠٢). ظفير

المصلي فان اشار يعقد الخنصر والبنصر ويحلق الوسطى بالابهام (١) الخ اوپه درمختار کي يي نقل کړی دی: الصحيح انه يشير بمسبحة وحدها يرفعها عند النفي ويضعها عند الاثبات (٢) الخ. يعني سبابه گوته دي له (لا اله) سره پورته کړي او په (الا الله) باندي دي کښېږدي. فقط

که درسته لاس گوته نه سي پورته کولای نو څه وکړي؟ سوال: (٣۴١) يو سړی درسته لاس دگوتي له پورته کولو څخه معذور دی په تشهد کي دچپ لاس گوته پورته کوي زيد يي منع کوي کم يو پرحقه دی؟

جواب: زيد ښه کوي، که دچا په رسته لاس کي عذر وي اوگوته نه سي پورته کولای نوهغه دي گوته نه پورته کوي، دچپ لاس دگوتي دپورته کولو حکم نسته. (٣) فقط

له سلام څخه وروسته دامام مخ کم لوري ته اړول ښايي؟ سوال: (٣۴٢) امام ته دسلام گرځولو څخه وروسته په هغه لمونځونو کي چي وروسته يي سنت نسته، کم لوری ته کښيناستل په کار دي، رسته لوري ته که چپه لوري ته اوکه قبلي ته شا کړي اوټولو مقتديانو ته مخ کړي بينوا تؤجروا !

جواب: دمسلم په حديث کي راغلي دي: وعن البراء قال کنا اذا صلينا خلف رسول الله ﷺ احببنا ان نکون عن يمينه يقبل علينه بوجهه قال فسمعته يقول رب قني عذابك يوم تبعث او تجمع عبادك. رواه مسلم (۴) وفي حديث عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال لايجعل احدکم للشيطان شيئا من صلاته يری ان حقا عليه ان لا ينصرف إلا عن يمينه لقد رأيت رسول الله ﷺ کثيرا ينصرف عن يساره. رواه البخاري ومسلم، وعن انس قال کان النبی صلی الله عليه وسلم اذا صلی صلوة اقبل علينا بوجهه رواه البخاري ص٧٩ مشکوة شريف (۵) له دي روايا‌تو څخه ثرگنده سوه چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم به اکثره وخت رسته لوري ته کښېنستی او مخ به يي اړوی اوکله به چپ لوري ته اوکله به يي اقبال علی الناس بوجهه فرمايي، چي ددي څخه دا مطلب هم حاصليدای سي چي قبلي ته په شا کولو سره خلگو ته متوجه کيدی، او دا هم ددي مطلب کيدای سي چي

---

(١) ردالمحتار، باب صفة الصلوة جلد اول ص۴٧۵، ط.س. ج١ ص۵٠٨. ظفير

(٢) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص۴٧۴ ، ط.س. ج١ س۵٠٩. ظفير

(٣) الصحيح انه يشير بمسبحة وحدها يرفعها عند النفي (درمختار) قوله بمسبحة وحدها فيکره ان يشير بالمسبحتين کما في الفتح وغيره (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴٧۴ ج١، ط.س. ج١ ص۵٠٨). ظفير

(۴) مشکوة باب الدعاء في التشهد فصل اول ص٨٧. ظفير

(۵) مشکوة باب الدعاء في التشهد فصل اول ص٨٧. ظفير

اقبال بوجهه همغه دى چي ديمين او يسار لوري ته په ګرځيدلو باندى ورڅخه تعبير سوى دى، او همدا وجه ده چي فقهاؤ هم په دي كي اختيار وركړى دى چي كه رسته لوري ته كښيني، كه چپه لوري ته كښيني اوكه خلګو ته مخ كړي اوقبلي ته شا ګرځوي، په درمختار كي راغلي دي: وفي الخانية يستحب للامام التحول ليمين القبلة يعني يسار المصلي الخ وخيره في المنيه بين تحويله يميناً وشمالا الخ واستقباله الناس بوجهها (۱) الخ او اكثر فعل دنبي كريم صلى الله عليه وسلم به رسته لوري ته كښينستل وو، كما ذكره الشراح وعليه عمل اكابرنا كالشيخ المحدث الجنجوهي و مولانا النانوتوي قدس الله اسرارهما. فقط

امام په لوړ اواز سره دعا غوښتلاى سي: **سوال**: (۳۴۳) ايا امام په لوړ اواز سره دعا غوښتلاى سي، كه څه هم په عين وخت كي مقتديان هم په اواز سره يا په كراره دعا كوي، خو امام په قراني اياتونو سره دعا غواړي؟

جواب: دعا پټه غوښتل ښه ده قال تعالى: ادعوا ربكم تضرعا وخفية. (۲)

په السلام عليكم ورحمة الله كي تر امام مخكي والي: **سوال**: (۳۴۴) كه چيري يو مقتدي له امام څخه مخكي په السلام عليكم ورحمة الله ويلوكي ساه وخوري، يا دامام تر مخ ګرځولو مخكي مخ وګرځوي نو دهغه لمونځ كيږي اوكه نه؟

جواب: لمونځ يي په دي صورت كي صحيح دى خو له امام څخه مخكي سلام ګرځول مكروه دى، وانما كره للمؤتم ذلك لترك متابعة الامام بلاعذر. الخ شامي (۳) جلد اول.

په تشهدكي دګوتي اشاره: **سوال**: (۳۴۵) دسرحد علماء په تشهد كي دګوتي له پورته كولو څخه منع كوي چي دا فعل دي په لمانځه كي نه كوي، خو موږ وايو چي دا فعل كول په لمانځه كي دسنت څخه ثابت سوى دى په دي خاطر په كم ډول سره چي اشاره ثابته سوي ده په سند صحيح سره يي تحرير وفرماياست؟

جواب: دحنفيانو په نزد صحيح دا ده چي په تشهد كي اشاره بالسبابه سنت ده او ددي خلاف ته يي له روايت او درايت څخه ځلاف ويلي دي په درمختار كي يي دګنو كتابونو په حوالي سره داشاره بالسبابه تصحيح فرمايلي ده: **حيث قال بعد نقل قول عدم الاشارة:**

---

(۱) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة جلد اول ص**۴۲۵**، ط.س. ج۱ ص**۵۳۱**. دتفصيل دپاره وګورئ: غنية المستملي ص۳۳۰. ظفير

(۲) سورة الاعراف ركوع ۷. ظفير

(۳) ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل اذا اراد الشروع جلد اول ص**۴۹۵**، ط.س. ج۱ ص**۵۲۵**. ظفير

لکن المعتمد ما صححه الشراح ولاسيما المتاخرون كالكمال والحلبی والبهنسي والباقاني وشيخ الاسلام الجد وغيرهم انه يشير لفعله عليه الصلوة والسلام ونسبوه لمحمد والامام بل في متن درر البحار وشرحه غرر الأذكار المفتي به عندنا انه يشير الخ وفي الشرنبلالية عن البرهان الصحيح انه يشير بمسبحة الخ وأحترز بالصحيح عما قيل لا يشير لانه خلاف الرواية والدراية الخ وفي العيني عن التحفة الاصح انها مستحبة وفي المحيط سنة، درمختار ([1]). فقط

دفاتحې او دسورت په مينځ کې دبسم الله تحقيق: **سوال**: (۳۴۶) په خلاصة الفتاوى جلد اول ص۵۲۲ کې راغلي دي: والكلام في التسمية على وجوه منها فلان ومنها انه ياتي بها في اول الصلوة لا غير في رواية الحسن رحمه الله عن ابي حنيفة رحمه الله وفي رواية ابي يوسف رحمه الله عن ابي حنيفة رحمه الله ياتي بها في اول كل ركعة وعن محمد رحمه الله ياتي بها في اول كل ركعة وعنه افتتاح كل سورة الا اذا كانت صلوة يجهر فيها بالقراءة لا ياتي الإمام بالتسمية بين الفاتحة والسورة عندنا، اوس په دې اقوالو کې په کم قول باندې فتوى ورکول کيږي، اوعمل ورباندې ښايي؟

جواب: ددې فيصله صاحب ددرمختار دا ډول کړې ده: وكما تعوذ سمي الخ سرا في اول كل ركعة ولو جهرية لاتسن بين الفاتحة والسورة مطلقا ولو سرية ولاتكره اتفاقا قوله ولا تكره اتفاقا ولهذا صرح في الذخيرة والمجتبى بانه ان سمى بين الفاتحة والسورة المقروءة سرًا او جهرًا كان حسنًا عند ابي حنيفة رحمه الله ورجحه المحقق ابن الهمام ([2]) الخ شامي، نو څرګنده سوه چې په مابين دفاتحې اوسورت کې هم بسم الله لوستل بهتردى که څه هم ټينګ سنت نه دی لکه څنګه چې دهر رکعت په پيل کې دي. فقط

دامام لپاره دقبلې څخه راګرځيدل له کومو لمونځونو څخه وروسته مستحب دي؟ سوال: (۳۴۷) دفرض لمانځه دسلام له ګرځولو څخه وروسته اهل حديث خو دهر لمانځه څخه وروسته دمقتديانو لوري ته متوجه کيږي او دعا کوي خو حنفي امامان مو ډير ليدلی دی چې له کم لمانځه څخه وروسته سنت نسته مثلاً دسهار او مازديګر، هلته خو هغوی هم داهل. حديثو په ډول سلام ګرځوي او دمقتديانو لوري ته مخ کړي، خو دکم لمانځه څخه وروسته چې سنت سته مثلاً دماپښين، ماښام او ماخستن، هلته هغوی مخ په قبله ناست وي او دعا کوي، په دې کې کمه طريقه اقرب الى السنة ده، تحرير دې له حوالې

([1]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة جلد اول ص۴۷۴، ط.س. ج۱ ص۵۰۸. ظفير

([2]) ردالمحتار باب صفة الصلوة جلد اول ص۴۵۷ – ۴۵۸، ط.س. ج۱ ص۴۹۰. ظفير

سره وي. دبخاري شريف دحديث: كان رسول الله ﷺ اذا صلى اقبل علينا بوجهه، څخه استموار ثابتيږي، دا صحيح دی او که نه؟

جواب: په درمختار کي راغلي دي: ويكره تاخير السنة الا بقدر اللهم انت السلام الخ وفي الخانية يستحب للامام التحول ليمين القبلة يعني يسار المصلي لتنفل اوورد وخيره في المنية بين تحويله يمينا وشمالاً واماماً وخلفا وذهابه لبيته واستقباله الناس بوجهه الخ جلد اول ص٣٤٧، وعن عائشة رضي الله عنها قالت كان رسول الله صلى الله عليه وسلم لم يقعد الا مقدار ما يقول اللهم أنت السلام ومنك السلام وتباركت يا ذا الجلال والاكرام ص٨١ مشكوة شريف ([1]) ددي فقهي رواياتو او دمشكوة شريف دحديث څخه دابنکاري چي دکمو لمونځونو څخه وروسته سنتونه دي نو مخ په قبله به دعا کوي او دسنتو لپاره به دريږي او حديث دبخاري شريف: كان رسول الله ﷺ اذا صلي اقبل علينا بوجهه، پرهغه لمونځونو باندي محمول دی له کومو څخه وروسته چي سنت نسته. فقط

په لوړ اواز سره امين او لاسونه پورته کول سنت دي اوکه نه؟ **سوال**: (٣٤٨) په لوړ اواز سره امين ويل او لاسونه پورته کول سنت دي که نه؟

جواب: دحنفيانو په نزد دا سنت نه دی بلکي په کرار اواز سره امين ويل اولاسونه نه پورته کول سنت دي. ([2])

دغير مقلد په جمعه کی ګډون: **سوال**: (٣٤٩) زموږ حنفي مذهبو سره يوکس دلمانځه په صف کي شامليدی اوپه لوړ اواز سره يې امين وايه دا زموږ لپاره دلمانځه دفساد يا دلمانځه دکراهت موجب دی اوکه نه؟ که چيري باعث دکراهت وي نوپه کم کتاب کي يي ليکلي دي؟

جواب: فساد نسته. فقط

لمونځ په السلام باندي ختمول ښايي: **سوال**: (٣٥٠) په السلام عليكم ورحمة الله باندي لمونځ ختمول په کار دي اوکه لفظ دبرکاته هم ولوستل سي؟

جواب: يوازي لفظ السلام عليكم ورحمة الله ويل سنت دی كما في الانوار الساطعة عن منية المصلى وان يقول السلام عليكم ورحمة الله مرتين اه ([3]) اوهمدا ډول په بل حديث

([1]) ردالمحتار باب صفة الصلوة جلد اول ص٤٩٥، ط.س. ج١ ص٥٠٨. ظفير

([2]) وامن سراً الخ ولا يسن رفع يديه الا في تكبيرة الافتتاح الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ط.س. ج١ ص٤٠٣). ظفير

([3]) ويقول السلام عليكم ورحمة الله ولا يقول في هذا السلام اي في سلام الخروج من الصلوة سواء كان عن اليمين او اليسار وبركاته (غنية المستملي ص٣٢٢). ظفير

کي هم وارد دي، یوازي دابوداود په روایت کي دبرکاته لفظ هم وارد سوی دی خو دحنفیانو په نزد روایت مشهوره مسنون دی دوبرکاته زیاتوالی اړتیا نسته. (۱)

دکمو لمونځونو څخه وروسته چي سنت نسته نو اوږده دعا دي وکړي؟ سوال: (۳۵۱) په بهشتي گوهر کي راغلي دي: مسئله: دکومو لمونځونو څخه وروسته چي سنتونه دي لکه ماپښین، ماښام او ماسختن؟ دهغوی څخه وروسته دي تر ډیره وخته پوري دعانه کوی، بلکه مختصره دعا دي کوي اوپه سنتو کولوکي دي مشغول سي، او دکومو لمونځونو څخه وروسته چي سنت نسته لکه دسهار اومازدیگر، دهغو څخه وروسته ترڅومره ساعته پوري چي یي خوښه وي دعا دي وکړي دا صورت شرعًا څنگه دی؟

جواب: اوفق بالاحادیث دا صورت دی چي دبهشتي گوهر څخه منقول دی چي دکومو فرائضو څخه وروسته سنت نسته لکه سهار او مازدیگر په هغي کي دي موافق دروایت دنور الایضاح عمل وکړي (۲) او دکمو فرائضو څخه وروسته چي سنت سته له هغو څخه وروسته دي امام او مقتدیان مختصره دعا وکړي او سنت دي ادا کړي اویا دي فصل بالاوراد وکړي او وروسته دي سنت وکړي. او بیا داجتماعا دعا اړتیا نسته ځکه چي دعا اجتماعا هم یوځل ده بیا دوباره له سنتو څخه وروسته مقتدیانو ته دامام ددعا انتظار کول او ددي التزام کول اړین نه دي. (۳) فقط

امین او داسي نور کرار ویل په کار دي: سوال: (۳۵۲) که چیري حنفي مقتدي امیـن یا ربنا

---

(۱) ثم یسلم الخ قائلا السلام علیکم ورحمة الله هو السنة الخ وإنه لایقول هنا وبرکاته وجعله النووي بدعة ورده الحلبی وفي الحاوي انه حسن (درمختار) رده الحلبی حیث قال في الحلیة شرح المنیة بعد نقله قول النووي انها بدعة ولم یصح فیها حدیث بل صح في ترکها غیر ما حدیث مانصه لکنه متعقب في هذا فانها جاءت في سنن ابي داود من حدیث وائل بن حجر باسناد صحیح وفي صحیح ابن حبان من حدیث عبدالله بن مسعود ثم قال اللهم الا ان یجاب بشذوذها وان صح مخرجها الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة بعدالفصل ص۴۹۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۲۲). ظفیر

(۲) وفي الحجة الامام اذا فرغ من الظهر والمغرب والعشاء یشرع في سنة ولا یشتغل بادعیة طویلة کذا في التتارخانیه (عالمگیري مصري کیفیت صلوة ج۱ ص۷۲، ط. ماجدیة ج۱ ص۷۷). ظفیر

(۳) جومات خو په اصل کي دفرض لمونځونو لپاره دی، نفل او سنت په کورونو کي کول غوره دي: والافضل في النفل غیر التراویح المنزل، الا لخوف شغل عنها والاصح افضلیة ما کان اخشع واخلص (درمختار) قوله والافضل في النفل الخ شمل مابعد الفریضة وما قبلها لحدیث الصحیحین علیکم بالصلوة في بیوتکم فان خیر صلاة المرء في بیته الا المکتوبة واخرج ابو داود وصلاة المرء في بیته افضل من صلاته في مسجدي هذا الا المکتوبة وتمامه في شرح المنیة (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ص۲۳۸ ج۱، ط.س. ج۲ ص۲۲) له دي څخه څرگنده سوه چي لمونځ کوونکی دسنتو لپاره تم کول او داجتماعا دعا کولو دستور په نبوي دور کي نه وو او نه اوس التزام صحیح دی ځکه چي دحدیث څخه خلاف دی، والله اعلم. ظفیر

لك الحمد په لوړ اواز سره وايي نو دهغه لمونځ بلا کراهته جايزدی اوکه نه؟

جواب: قال في الدر المختار في بيان سنن الصلوة والثناء والتعوذ والتسمية والتامين وكونهن (۱) سرا الخ وفيه ايضا وكذا في التسميع والسلام واما المؤتم والمنفرد فيسمع نفسه (۲) الخ وفيه ايضاً ترك السنة لا يوجب فساداً ولا سهواً بل اساءة الخ وقالوا الاساءة ادون من الكراهة (۳) في الشامي، الاساءة افحش من الكراهة (۴) الخ، ددي ټولو روايتونو څخه ښکاره سوه چي جهر بالتامين والتحميد دحنفيانو په نزد خلاف سنت دی، اومرتکب ددي مسئي (بدکوونکی) دی. فقط

په ناسته دلمونځ کولو په حالت کی به درکوع هئيت څنګه وي؟ **سوال**: (۳۵۳) په ناسته لمونځ کولو کي درکوع په حالت کي کوناټي له پوندو څخه پورته لوړول په کاردي اوکه سر ټيټول کفايت کوي؟

جواب: سر ښه ټيټول کافي دي او کمال رکوع په داسي حالت کي يعني په ناسته لمونځ کولو کي دا ده چي په رکوع کي تندی دزنګنونو مقابل سي مګر که چيري لږ اندازه يي هم سر ټيټ کړ دملا دانحناء سره نو داهم کافي دی، په شامي کي له برجندي څخه منقول دي: ولو كان يصلي قاعدا ينبغي ان يحاذي جبهته قدام ركبتيه ليحصل الركوع اهـ قلت ولعله محمول على تمام الركوع وإلا فقد علمت حصوله باصل طأطأة الرأس اي مع انحناء الظهر (۵). شامي. فقط

له پنځه وخته لمانځه څخه وروسته دعا سنت ده: **سوال**: (۳۵۴) دپنځه وخته لمانځه څخه وروسته ددعا لپاره لاسونه پورته کول سنت دي اوکه بدعت دی، زيد په دي خاطر دعا ترک کړه چي په دي باره کي څه حديث وارد نه دی، دا فعل څنګه دی؟

جواب: دپنځه وخته لمانځه څخه وروسته لاس پورته کول او دعا غوښتل سنت نبويه صلى الله عليه وسلم دی، حصن حصين چي دحديثو معتبر کتاب دی په هغه کي احاديث مرفوعه په دعاکي دلاس پورته کولو اوتر دعا وروسته پرمخ باندي دلاسونو راتيرولو موجود دی هغه دي وکتل سي دلمونځونو څخه وروسته ددعا مسنون کيدل هم په هغه

---

(۱) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب في سنن الصلوة ص۴۴۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۷۵. ظفير

(۲) شامي ص۴۴۳، باب صفة الصلاة ايضاً، ط.س. ج۱ ص۴۷۵. ظفير

(۳) ايضا جلد اول ص۴۴۲، ط.س. ج۱ ص۴۷۳ - ۴۷۴. ظفير

(۴) ردالمحتارباب ومطلب ايضا جلد اول ص۴۴۲، ط.س. ج۱ ص۴۷۸. ظفير

(۵) ردالمحتار باب صفة الصلوة بحث الركوع والسجود جلد اول ص۴۱۲، ط.س. ج۱ ص۴۷۴. ظفير

کي ذکر دي (۱) نو دزيد دا فعل يعني له لمانځه څخه وروسته ددعا پرېښودل دسنت خلاف دی. (۲) فقط

له ثناء، تشهد اوداسې نورو څخه مخکې بسم الله نسته: سوال: (۳۵۵) په لمانځه کي له ثناء، تشهد، درود دعا او دعاء قنوت څخه مخکي بسم الله لوستل ښايي اوکه نه؟

جواب: بسم الله لوستل دسورت فاتحي په پيل کي اودسورت څخه مخکي دي دتشهد او داسي نورو څخه مخکي دبسم الله دلوستلو حکم نسته، مګر په ځينو رواياتوکي په تشهد او دعاء قنوت کي بسم الله وارده ده، که يي ووايي نوڅه ستونزه نسته. (۳)

له فرضو څخه وروسته او له سنتو څخه مخکې ددعا اندازه څومره ده؟ سوال: (۳۵۶) له فرضو څخه وروسته دسنتو او نوافلو څخه مخکي په دعا کي دااللّهم انت السلام څخه زيات لوستل جايز دي او که نه؟ شاه ولي الله رحمه الله په حجة الله البالغه کي نوري دعاګاني نقل کړي دي او دهغو لوستل يي غوره ليکلي دي په دي باره کي څه حکم دی؟

جواب: دغه دعاګاني او اذکار لوستل وروسته دفرض لمانځه څخه دسنتو رواتبو يعني موکدو څخه مخکي جايز او مستحب دي اوپه دي کي هيڅ بدي نسته، او ځينو فقهاوو چي دا ليکلي دي چي دفرضو څخه وروسته دي له اللهم انت السلام الخ څخه زيات لوستل نه کوي نو ددي مطب دانه دی چي ددي څخه زيات لوستل مکروه دي اونه غرض ددي څخه تحديد دی اوکه چيري دځينو فقهاوو دځينو احاديثو ظاهر ته دکتلو په وجه همدا رايه وي نو نور اکثر فقهاء داحاديثو دډېرو رواياتو له امله نور اذکار او ماثوره دعاګاني جايز اومستحب بولي (۴) لکه څنګه چي حضرت شاه ولي الله صاحب رحمه الله تحرير فرمايلي دي.

---

(۱) قال رسول الله ﷺ اذا سألتم الله فاسئلوه ببطون اكفكم (الى قوله) فاذا فرغتم فامسحوا بها وجوهكم رواه ابوداود. وعن عمر قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا رفع يديه في الدعاء لم يحطهما حتى يمسح بهما وجهه رواه الترمذي (مشكوة كتاب الدعوات فصل ثاني ص۱۹۵). ظفير

(۲) ودبر الصلوت المكتوبات بحواله الترمذي (حصن حصين احوال الاجابة ص۳۰). ظفير

(۳) وتعوذ الخ سراً الخ لقراءة الخ وكما تعوذ سمي غير الموتم (درمختار) ذكر المصنف ثلاث مسائل تفريعًا على قوله لقراءة بناء على قول اي حنيفة ومحمد ان تعوذ تبع للقراءة اما عند ابي يوسف فهو تبع للثناء الخ لكن مختار قاضي خان والهداية وشروحها والكافي والاختيار واكثر الكتب هو قولهما انه تبع للقراءة وبه ناخذ شرح المنية (ردالمحتار باب صفة الصلوة بعد الفصل ج۱ ص۴۵۲ - ۴۵۷، ط.س. ج۱ ص۴۸۹). ظفير

(۴) ويكره تاخير السنة الا بقدر انت السلام الخ قال الحولاني لا باس بالفصل بالاوراد واختاره الكمال الخ ويستحب ان يستغفر ثلاثا ويقرء اية الكرسي والمعوذات الخ ويدعو ويختم بسبحان ربك الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار، باب صفة الصلوة فصل كيفيت صلوة جلد اول ص۴۹۴، ط.س. ج۱ ص۴۳۰). ظفير

درکوع په حالت کي الصاق کعبين: **سوال**: (۳۵۷) دبجلکو يو ځای کول درکوع په حالت کي مسنون دی اوکه نه؟ اوپه درمختارباب السنن کي چي کم روايت اوبحث ددي متعلق دی هغه روايت دعمل قابل دی او که نه؟

جواب: په دي باندي عمل کول صحيح دی ولي چي دعلامه شامي کلام يوازي په دي کي دی چي داسنت دی اوکه نه؟ پاته جواز بلکي په استحباب کي هيڅ شبه نه ځرګنديږي او سره له دي چي ددي سنت والی ثابت نه دی په دي وجه که چيري الصاق کعبين ونه کړي نوپر هغه باندي هيڅ ملامتيا نسته. ([1]) فقط

له فرائضو څخه وروسته: **سوال**: (۳۵۸) دجمعي څخه وروسته چي کمه دعا له امام سره کوي په هغي کي امين ويل پکار دي اوکه يي هره دعا خوښه وي هغه دي وغواړي؟

جواب: چي کمه دعا يي خوښه وي هغه دي وغواړي، دا اړينه نه ده چي دامام په دعا دي امين ووايي. ([2])

په متونوکی دسبابی دپورته کولو ذکر ولی نسته؟ **سوال**: (۳۵۹) په متونو کي يي درفع سبابي ذکر ولي نه دی کړی او دا کول صحيح دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي ددي تفصيل وګوری په هغه کي يي دځينو متونو څخه هم رفع سبابه نقل کړي ده او درفع سبابي تصحيح يي کړی ده، او امام محمد رحمة الله عليه خپل اودامام ابو حنيفه رحمه الله قول ليکلی دی. ([3]) فقط

دالله اکبر پرځای يا الله ويل جائز دي اوکه نه؟ **سوال**: (۳۶۰) په لمانځه کي دانتقال په تکبيرونو کي دالله اکبر پر ځای که چيري يوسړی سهواً يا الله يو دوه ځله ووايي نوجايز دی که نه؟

([1]) وسننها الخ رفع اليدين الخ وتكبيرة الركوع الخ والتسبيح فيه ثلاثا وإلصاق كعبيه الخ ويسن ان يلصق كعبيه وينصب ساقيه ويبسط ظهره ويسوى ظهره بعجزه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۴۴ ج۱ وص۴۲۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۷۳ - ۴۷۲) قال السيد ابوالسعود وكذا في السجود ايضا وسبق في السنن ايضاً اهـ والذي سبق هو قوله والصاق كعبيه في السجود سنة در آهـ ولا يخفي ان هذا سبق نظر فان شارحنا لم يذكر ذلك لافي الدر المختار ولا في الدرالمنتقى ولم أره لغيره ايضا فافهم نعم ربما يفهم ذلك من أنه إذا كان السنة في الركوع الصاق الكعبين ولم يذكر تفريجها بعده فالاصل بقاءهما ملصقين في حالة السجود ايضًا تامل الخ (ردالمحتار باب ايضًا ج۱ ص۴۲۱، ط.س. ج۱ ص۴۷۳). ظفير

([2]) يسلم الخ مع الامام الخ ويدعو ويختم بسبحان ربك (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة جلد اول ص۴۸۹ ، ط.س. ج۱ ص۵۲۴). ظفير

([3]) مفصله حواله تيره سوه: هو قول ابي حنيفة ومحمد (رحمهما الله) وكثرت به الاثار والاخبار فالعمل به اولي (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۷۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۰۸). ظفير

جواب: داجايز دى اوپه دي صورت كي لمونځ كيږي. (۱) فقط

په تشهد كي دګوتو حلقه تركمه پوري باقي ولري؟ سوال: (۳۲۱) په لمانځه كي دننه په قعده كي چي كله دشهادت ګوته پورته كوي نونوري څلور ګوتي بندول په كار دي، دتشهد څخه وروسته ترسلامه پوري داګوتي همغه ډول پكاردي كه خلاصي يي كړي؟

جواب: دلا اله ويلو په وخت كي يي چي كله عقد اصابع يا دهغو حلقه كړيده نو بيا هغه تر فارغ كيدلو پوري همغه ډول ايښودل په كار دي كما نقل شامي عن المحيط انها سنة يرفعها عند النفي ويضعها عند الاثبات وهو قول ابي حنيفة ومحمد رحمه الله وكثرت به الاثار والاخبار فالعمل به اولى انتهي فغير صريح في ان المفتي به هو الاشارة بالمسبحة مع عقد الاصابع على الكيفية المذكورة، شامي (۲) جلد اول همدا ډول متعدد عبارتونه دي په كوموكي چي دعقد اصابع (دګوتو راغونډولو) او له اشاري څخه وروسته دهغو دخلاصولو ذكر نسته چي ددي صريح دليل دى چي وروسته دراغونډولو څخه خلاصول مناسب نه دي، فقط

په ركوع كي دبجلكو يوځاى كول سنت دي اوكه نه؟ سوال: (۳۲۲) په ركوع كي ددواړو بجلكو يو ځاى كول سنت دى او كه نه؟ كه چيري سړى په دي باندي عامل وي نودهغه منع كول جايز دي اوكه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفيق، په شامي كي راغلي دي: ويكره القيام على احد القدمين في الصلوة بلاعذر وينبغي ان يكون بينهما مقدار اربع اصابع اليد لانه اقرب الي الخشوع هكذا روى عن ابي نصر الدبوسي انه كان يفعله كذا في الكبرى وما روى انهم الصقوا الكعاب بالكعاب اريد به الجماعة اي قام كل واحد بجانب الاخر كذا في فتاوى سمرقند الخ ص۲۹۹ جلد اول (۳) ددي روايت څخه دا خبره څرګنده سوه چي دقيام په حالت كي ددواړو پښو ترمينځ دڅلورو ګوتو فاصله پكار ده او داچي دبجلكو ديوځاى كولو مطلب محاذات دى چي دسوُّوا صفوفكم وتواصُّو وسدوا الخلل، اودنورو احاديثو څخه مستفاد دى نوكله چي په حالت دقيام كي دڅلورو ګوتو فاصله په پښوكي پريښودل په كار دي نو په ركوع كي هم په همدي حالت باندي اوسيدل په كار دي، په هر

(۱) وصح شروعه بتسبيح وتهليل وتحميد وسائر كلم التعظيم الخالصة له تعالى الخ كما صح لو شرع بغير عربية (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل تأليف الصلاة ج۱ ص۴۵۰، ط.س. ج۱ ص۴۸۳). ظفير

(۲) ردالمحتار، باب صفة الصلوة بحث القيام جلد اول ص۴۱۴، ط.س. ج۱ ص۵۰۹. ظفير

(۳) ددي جملو دپاره وګورئ: مشكوة باب تسوية الصفوف. ظفير

حال ښکاري چي اصل سنت له پيوستوالی، برابروالی اودصف دسيده کولو څخه حاصل وي، او له تجربي څخه ثرګنديږي چي په رکوع او سجده کي دبجلکو يو ځای کول حقيقتاً متعذر دی يا په ډير تکليف او دقت سره کيږي، پوندي خو يوځای کيدلای سي مګر په تجربي سره ثرګنده سوه چي دپوندو په يوځای کولو سره کعبين بجلکي نه يوځای کيږي البته دکعبينو برابري په پوره ډول سره په دي کي حاصليږي اوهمدا مقصود دشارع عليه السلام معلوميږي لکه څنګه چي داحاديثو څخه ثابت دي او ددي زيات تحقيق او تفصيل سره له نقله دعباراتو مولانا ميرك شاه مدرس مدرسه هذا په بله پرچه کي ليکلي دي هغه دي ملاحظه کړله سي. فقط

نور له مولانا ميرك شاه صاحب مدرس دار العلوم (ديوبند) له لوري

جواب: اقول وبالله التوفيق، دا مسئله (الصاق کعبين) که څه هم دمتاخرينو حنفيو په کتابونو کي سته مګر دمذهب دامامانو او دمتقدمينو حنفيه ؤ په نزد ددي هيڅ اصل نه ليدل کيږي په دي ډول دمتقدمينو په معتبرو کتابونو کي ددي هيڅ ذکر نسته، بلکي حقه داده چي دا مسئله دټولو څخه مخکي زاهدي په مجتبی کي ذکر کړيده بيا دهغه څخه قهستاني جامع الرموز او په شرح کيدانی کي او حلبي دمنيي په شرحه کي، او ابن نجيم په بحر کي، او تمرتاشي (دبحر دصاحب شاګرد) په نهج القضاء کي نقل کړيده او سره له دي هيڅ ډول ترديد يي هم دنقل کولو په وخت کي نه دی کړی په دي وجه دا معمول به وګڼل سوه، او له هم دي وجهي صاحب دبحر اوصاحب ددرمختار دجزم په صيغي سره دا نقل کړه، دي لوري ته دځينو فقهاوو دکلام او دتوارث او تعامل څخه ثرګنديږي چي تفريج هم سنت کيدل په کار دي، لکه چي په سعايه کي ذکر دی ورأيت كلاما للشيخ محصد حيات السندي يقتضى اثبات سنية التفريج ونفي سنية الالصاق (١) چي دي حالاتو ته وکتل سي نو دمتاخرينو عبارت به مؤول وي يا مرجوح، په طوالع الانوار شرح درمختار کي شيخ محمد عابد رحمه الله ددي په تاويل کولو سره دالصاق کعبين څخه محاذات دکعبينو مراد اخيستی دی اوپه دي کي يي دعلامه رحمتي دقول څخه استيناس هم کړی دی لکه چي ليکي: قوله والصاق كعبيه اي حالة الركوع قال الشيخ رحمتي مع بقاء تفريج مابين القدمين قلت لعله ارأد من الالصاق المحاذاة وذلك بان يحاذي كل من كعبيه لاخر فلا يتقدم احدهما على الاخر (٢) دا خو دمتاخرينو دهغه

---

(١) سعايه.
(٢) طوالع الانوار.

قول دتاويل صورت دى چي په طوالع الانوار شرح درمختار كي ذكر دي او كومو فقهاوو چي ددي تاويل اراده نه ده كړي هغوى دي ته قول مرجوح وايي او دزاهدي په اوهامو كي يي شاملوي. كما في السعاية نقل عن تعليق الشيخ ابي الحسن السندي على الدرالمختار هذه السنة انما ذكرها من المتاخرين تبعا للمجتبى وليس لها ذكر في الكتب المتقدمة ولم يرد في السنة على ما وقفنا عليه وكان بعض مشائخنا يرى انه من اوهام صاحب مجتبى وكأنهم توهموا مما ورد أن الصحابة كانوا يهتمون بسد الخلل في الصفوف حتى يضمون الكعاب والمناكب ولا يخفى ان المراد ههنا إلصاق كل كعب بكعب صاحبه لاكعبه مع الكعب الاخر (۱) اهـ خلاصه دا چي دواړه بجلكي په ركوع كي بالكل يوځاى كول څنګه چي دمجتبى او دهغه داتباعو په كتابونو كي واقع سوى دي په خپل ظاهر مفهوم باندي محمول نه دي اوكه چيري په ظاهر مفهوم باندي محمول هم سي نو دصاحب مجتبى داوهامو څخه به وي، مګر په سعايه كي يي شق اول اختيار كړى دى او په ركوع كي دبجلكي دبجلكي سره يوځاى كول دسنتيت نفي په ډيرو دلائلو سره ثابته ده فليراجع. كتبه ميرك شاه، فقط

په تشهد كي دسبابي دپورته كولو تحقيق: **سوال**: (۳۲۳) په تشهد كي دسبابي دپورته كولو متعلق دحنفي عالمانو كم مذهب دى، ايا سنت ده كه مستحب؟ او دكم وخت څخه تر كم وخت پوري يي پورته كوي؟ حضرت مجدد صاحب رحمه الله ددي خلاف ولي فرمايي او حلقه جوړول څنګه دي؟

جواب: صحيح دا ده چي دشهادت ګوته په تشهد كي پورته كول سنت ده او امام محمد رحمه الله په موطا كي فرمايلي دي: وهو قولي وقول ابي حنيفة رحمه الله (۲) او مستحب دا دى چي پرنفي باندي پورته كړي او پراثبات باندي يي كښيږدي، وفي المحيط انها سنة يرفعها عند النفي ويضعها عند الاثبات وهو قول ابي حنيفة ومحمد رحمهما الله وكثرت به الاثار والاخبار فالعمل به اولى. (۳) او حضرت امام رباني رحمه الله بناءاً على المتون عدم رفعه راجحه ګڼلى ده مګر جمهورو فقهاوو او محدثينو ددي دخلاف تصحيح فرمايلي ده، او شراحو دمتونو روايت صحيح او مفتى به نه دى ګڼلي او دحضرت مجدد صاحب رحمه الله اتباعو او خلفاوو هم دامام رباني دقول تاويل فرمايلى دى

(۱) سعايه.
(۲) موطا إمام محمد.
(۳) ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل في تاليف الصلوة جلد اول ص۴۷۵، ط.س. ج۱ ص۵۰۹. ظفير

او دسبابي داشاري سنت کيدل يي ثابت فرمايلي دي، او حلقه کول په ابهام او په وسطی سره او په راغونډولو دخنصر او بنصر او اشاره کول په مسبحې سره سنت دي: وصفتها ان يحلق من يده اليمني عند الشهادة والابهام والوسطی ويقبض البنصر والخنصر ويشير بالمسبحة الخ شامي ([1]). فقط

<u>دسجدی څخه دپاڅيدلو په وخت کی سيده دريدل دسنت مطابق دي</u>: سوال: (۳۶۴) غير مقلدين دا هم وايي چي حنفيان دسجدي څخه دسر په پورته کولو سره سم سيده ودريږي، دا غير مشروع دي اوپه دي سره په لمانځه کي خلل راځي بلکي دسجدي څخه دسر پورته کولو څخه وروسته لږ کښينستل هم په کار دي، دا قول صحيح دی او که نه؟

جواب: ددي جواب صاحب دهدايي په مختصرو الفاظوکي دا ډول ورکړي دي: ولنا حديث ابي هريرة عنه ان النبي ﷺ کان ينهض في الصلوة علی صدور قدميه وماروا‌ه محمول علی حالة الکبر ([2]) الخ. فقط

<u>دګوتي پورته کول او حضرت مجدد صاحب</u> رحمه الله: سوال: (۳۶۵) دفقهي داکثرو کتابونو څخه څرګنديږي چي په التحيات کي سبابه ګوته پورته کول سنت او دثواب موجب ده، اوحضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله مدرس دهلوي دا فعل سنت نبوي ګرځوي، مګر حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمة الله عليه دافعل په ۳۱۲ مکتوب کي حرام فرمايي، په دي دواړو حضراتو کي دچا قول معتبر او مستند دی؟

جواب: په دي کي صحيح او مستنده خبره دا ده چي اشاره بالسبابه په تشهد کي سنت او مستحب ده، جمهور امت همدي لوري ته دی او په درمختارکي يي دعدم رفع سبابي روايت نقل کړی دی او بيا يي ددي خلاف دډيرو رواياتو او دلائلو سره سنت والی ثابت کړی دی، او امام محمد رحمه الله په موطا کي خپل او دإمام صاحب رحمه الله مذهب درفع سبابي سنت والی نقل کړی دی ([3]) او حضرت مجدد صاحب داسي فرمايلي دي، مګر محققه خبره دا ده چي رفع سبابه سنت ده ددي پريښودل نه دي په کار: هذا خلاصة

([1]) ايضًا. ظفير

([2]) هدايه باب صفة الصلوة ص۱۰۱ ج۱. يعني دحضرت ابو هريره رضي الله عنه بيان دی چي نبي کريم ﷺ به په لمانځه کي دسجدي څخه دولاړيدو په وخت کي سيده دخپلو دواړو پښو په سرونو باندي دريدی دسجدي څخه دسر پورته کولو څخه وروسته به لږ وخت نه کښېنستی پاته چي په کم روايت کي دکښينستلو څخه دوروسته پاڅيدلو ذکر دی هغه دحضور ﷺ دبوډاوالي واقعه ده چي دخپل کمزوری به وجي سره به يې داسي کول، دغه ډول په دواړو حديثونو باندي دعمل صورت راوزي، والله أعلم. ظفير

([3]) تفصيلي حواله مخکي تيره سوه. ظفير

مافصله و حققه العلماء المحققون من الاحناف فلا اشكال فان اختلاف الامة رحمة من الله المتعال. فقط

کە چیري په اوله قعده کی امام ولاړسي او مقتدي التحیات پوره کړي نه وي نوهغه ته څه کول په کاردي؟ **سوال**: (۳۲۶) که چیري امام په اوله قعده کي التحیات ووايي او ولاړ سي او مقتدي پاته وي نو هغه څه وکړي اوکه چیري يي مقتدي مخکي ووايي نو څپ به ناست وي اوکه څه وکړي؟

جواب: مقتدي دي التحیات پوره کړي او ولاړ دي سي [1] او که چیري يي مقتدي مخکي ووايي نو چپ دي اوسي یا دي داخري کلمي تکرار کوي. [2] فقط

په لمانځه کی په درود کی دذريات او ازواج کلمه زیاتول څنګه دي؟ **سوال**: (۳۲۷) یو صاحب لیکلي دي چي په لمانځه کي کم درود شریف لوستل کیږي په هغه کي لفظ دازواج او ذريات ورسره زیات کړي په دي کي ثواب دی مثلاً: اللهم بارك على ازواجه وذرياته الخ، دا الفاظ زیاتول صحیح دي او که نه؟

جواب: چي څومره قدر معمول دی همغه کافي دی، که څه هم په زیاتولو کي څه بدي نسته. [3] فقط

په سلام کی دي یوازي مخ ګرځوي سينه دي نه ګرځوي: **سوال**: (۳۲۸) دلمانځه څخه دوتلو لپاره دسلام ګرځولو په وخت کي دقبلي له لوري یوازي مخ وګرځوي او که سینه هم؟

جواب: یوازي مخ ګرځول دواړو لورو ته په سلام ګرځولو کي کافي دی. [4] فقط

سورت یوځای کول واجب دي: **سوال**: (۳۲۹) ضم دسورت فرض دی که واجب؟ او ترڅومره

---

(۱) لو رفع الامام راسه الخ قبل ان يتم الماموم التسبيحات الثلاث وجب متابعته الخ بخلاف سلامه او قيامه لثالثة قبل اتمام الموتم التشهد فانه لايتابعه بل يتمه لوجوبه ولو لم يتم جاز (درمختار) اي صح مع كراهة التحريم الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل تاليف الصلوة جلد اول ص۴۲۳، ط.س. ج۱ ص۴۹۵). ظفير

(۲) ولايزيد في الفرض على التشهد في القعدة الاولى اجماعا الخ ولو فرغ الموتم قبل امامه سكت اتفاقا (ايضاً ج۱ ص۴۷۶ – ۴۷۷، ط.س. ج۱ ص۵۱۰). ظفير

(۳) ولذا قال في شرح المنية والاتيان بما في الاحاديث الصحيحة اولى الخ (ردالمحتار باب ايضاً جلد اول ص۴۷۹، ط.س. ج۱ ص۵۱۳). ظفير

(۴) وتحويل الوجه يمنة ويسرة للسلام (أي من السنن (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب سنن الصلوة ص۴۴۵ ج۱، ط.س. ج۱ ۲۴۷۷) ولها آداب تركه لايوجب اساءة ولاعتابا لكن فعله افضل الخ والى منكبه الايمن والايسر عند التسليمة الاولى والثانية لتحصل الخشوع (ايضا اداب الصلوة ص۴۴۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۷۷). ظفير

اندازي پوري؟

جواب: واجب دی په اندازه ددري ایتونو. ([1]) فقط

امامت پرته له پټکی څخه ثابت دی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۷۰) درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یا دعلماوو څخه پرته له پټکی لمونځ کول ثابت دي اوکه نه؟

جواب: اوکلکم یجد ثوبین وغیره داحادیثو څخه ښکاره څرگنده ده چي پټکی له ضروریاتو دصلوة یا امامت څخه نه دی. ([2])

چي په رکوع کی امام توندي کوي نو ایا دمقتدي لمونځ کیږي؟ **سوال**: (۳۷۱) امام په رکوع او سجده کي دومره تلوار کوي چي مقتدیان دري ځلي تسبیح نه سي ویلای، ایا په دي صورت کي دمقتدیانو لمونځ کیږي؟

جواب: امام ته داسي تلوار په رکوع اوسجدو کي نه دی په کار چي مقتدیان دري ځله تسبیح ونه سي ویلای، مگر که چیري دمقتدیانو دري ځله تسبیح پوره نه سي نو دمقتدیانو لمونځ صحیح اوکامل سو، په هغه کي څه نقصان نه راځي ([3]). فقط

ښځي څنګه سجده وکړي؟ **سوال**: (۳۷۲-۱) ښځو ته دسړو په شان سجده کول په کار ده اوکه څنګه؟

دتشهد په حالت کي به نظر پرکم ځای وي؟ **سوال**: (۳۷۳-۲) دتشهد په حالت کي به کم ځای ته گوري؟

جواب: (۱) ښځو ته خپل بدر او اندامونه په سجده اوداسي نورو کي راټولول په کار دي ([4]) دسړیانو په شان خلاصول نه دي په کار، دا مکروه دي.

(۲) دلمانځه په ادابو کي دي، چي په حالت دقیام کي دي دسجدي پر ځای باندي نظر لري او درکوع په حالت کي دي دپښو پرشا باندي او دسجدي په حالت کي دي دپزي دکناري لوري ته اوپه حالت دقعود اوتشهد کي دي دخپلي سینې لوري ته نظر کوی الخ،

([1]) ولها واجبات الخ (ومنها) ضم اقصر سورة کالکوثر او ماقام مقامها وهو ثلاث ایات قصار (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة جلد اول ص۴۲۷، ط.س. ج۱ ص۴۵۲ – ۴۵۸).

([2]) دار قطني، باب الصلوة في الثوب الواحد جلد اول ص۱۰۵. ظفیر

([3]) لو رفع الامام رأسه من الرکوع والسجود قبل ان یتم الماموم التسبیحات الثلاث وجب متابعته (درمختار) یسبع فیه ثلاثا فانه سنة علی المعتمد المشهور في المذهب لافرض ولا واجب کما مر فلا یترك المتابعة الواجبة لاجلها، (ردالمحتار، باب صفة الصلوة جلد اول ص۴۲۳، ط.س. ج۱ ص۴۹۵). ظفیر

([4]) والمرأة تنخفض فلا تبدي عضدیها وتلصق بطنها بفخذیها لانه استر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار جلد اول ص ۴۷۱، ط.س. ج۱ ص۵۰۴). ظفیر

(۱) درمختار. فقط

امي څنګه لمونځ وکړي؟ سوال: (۳۷۴ - ۱) څوك چي لمونځ نه سي زده کولای نوهغه به څه کوي؟

له فرضو څخه مخکې اني وجهت ویل څنګه دي؟ سوال: (۳۷۵-۲) ایا له فرضو څخه مخکي اني وجهت وجهي للذي فطرالسموت الخ لوستل په کار دي؟

جواب: (۱) دقراءت زده کولو کوښښ ته دي دوام ورکړي او دلمانځه افعال دي ادا کوي اوپه کار دي چي په امام پسي په جمع کي شریکیږي او لمونځ دي ادا کوي، کله چي قراءت اوداسي نور زده کړي نوهغه وخت دي لمونځ باقاعده کوي. (۲)

(۲) څه تکلیف نسته، له نیت څخه مخکي دي ووایي. (۳) فقط

دفرض لمونځونو څخه وروسته دعا جایز ده اوکه نه؟ سوال: (۳۷٦) له فرضو څخه وروسته دعا غوښتل جایز دي؟ که چیري جایز وي نوتر څومره وخته پوري؟

جواب: دعا غوښتل له ټولو فرضو او سنتو لمونځونو څخه وروسته جایز ده او مستحب ده څومره چي مناسب وي دعا دي وکړي خو له کومو فرائضو څخه وروسته چي سنت دي دهغو څخه وروسته دي ډیر ساعت دعا نه کوي له دعا څخه دفارغیدلو وروسته دي سنت وکړي (۴). فقط

په لوړ او کرار اواز سره دامین تحقیق: **سوال**: (۳۷۷) په لوړ او کرار اواز کي دامین تحقیق څه دی؟ او که چیري غیر مقلدین امین په لوړ اواز سره ووایي نو دحنفیانو په لمانځه کي څه خلل راځي اوکه نه؟ او په دي باره کي دحنفیانو او غیر مقلدینو په مینځ کي همیشه جګړه وي، حنفیان وایي چي جومات دي تقسیم کړل سي غیر مقلدین دي زموږ

---

(۱) نظره الی موضع سجوده حال قیامه والی ظهر قدمیه حال رکوع والی ارنبة انفه حال سجوده والی حجره حال قعوده (الدر المختار علی هامش ردالمحتار جلد اول ص۴۴۲، ط.س. ج۱ ص۴۷۷). ظفیر

(۲) وذکر التمرتاشي یجب ان لایترك الامي اجتهاده اناء لیله ونهاره لیتعلم قدر ماتجوز به الصلوة ان قصر لم یعذر عند الله تعالی (غنیة المستملي ص۴۸۴) ولایلزم العاجز عن النطق کاخرس وامي تحریك لسانه وکذا في حق القراءة هو الصحیح لتعذر الواجب فلا یلزم غیره الابدلیل فکفی النیة لکن ینبغي ان یشترط فیها القیام الخ (الدرالمختار باب صفة الصلوة جلد اول ص۷۴). ظفیر

(۳) والاولی ان یاتي بالتوجه قبل التکبیر لیتصل النیة به هو الصحیح (هدایه باب صفة الصلوة جلد اول ص۹۲).

(۴) ثم یسلم عن یمینه ویساره (الی قوله) ویستحب ان یستغفر ثلاثا ویقرء اية الکرسي والمعوذات ویسبح ویحمد ویکبر ثلاثا وثلثین ویهلل تمام المائدة ویدعو ویختم سبحان ربك (الدالمختار علی هامش ردالمحتار جلد اول ص۴۹۴، ط.س. ج۱ ص۵۲۴) ویکره تاخیر السنة الا بقدر اللهم انت السلام الخ وقال الحلواني لاباس بالفصل بالاوراد واختاره الکمال ایضاً ص۴۹۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۳۰). ظفیر

جومات ته نه راځي، او غير مقلدين وايي چي جوماتونه دي نه تقسيميږي په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: دحنفيانو مذهب دا دی چي امين کرار ويل په کار دي، فقهاء حنفيه دکرار اواز امين ته مسنون فرمايي او په حديث کي دکرار اواز امين هم وارد سوی دی په شرح منيه کي راغلي دي: وقد روي احمد وابو يعلي والطبراني والدارقطني والحاکم في المستدرك من حديث شعبة عن سلمة بن کهيل عن حجر بن العنبس عن علقمة بن وائل عن ابيه انه صلی مع رسول الله صلی الله عليه وسلم فلما بلغ غير المغضوب عليهم ولا الضالين قال امين واخفی بها صوته وقال الشافعي رحمه الله واحمد رحمه الله يجهر الامام والماموم بامين لما روی ابن ماجة کان عليه الصلوة والسلام اذا تلا غير المغضوب عليهم ولا الضالين قال امين حتی يسمع من في الصف الاول فيرتج المسجد قلنا تعارض روايتا الجهر والاخفاء وامين دعاء فان معناه استجب (۱) الخ ددي عبارت څخه واضحه ده چي علماءِ حنفيه دکرار اواز حديث ته ترجيح ورکوي او دهغوی په نزد امين پټ ويل سنت دي مګر ددي سره مسئله اختلافي ده، په دي خاطر حنفيانو ته هم تعصب نه دي کول په کار دغير مقلدينو دامين په لوړ اواز ويلو سره په لمانځه کي څه خلل نه راځي مګر غير مقلدو ته هم تعصُّب نه دي کول په کار، کله چي دامين پټ ويل هم په حديث شريف کي وارد دی او هغه راجح هم دی نو په خپل نظر باندي ولی ټينګيږي؟ پاته سوه دا چي دحنفيانو په جوماتونو کي که چيري دغير مقلدينو راتلل موجب دفساد او فتني وي نو هغوی دي بند کړل سي چي دحنفيانو په جوماتونو کي دي لمونځ نه کوي څرنګه چي روافض بنديږي. فقط

له فرضو څخه وروسته پرسر باندي لاس ايښودل اودعا کول ثابت دي اوکه نه؟ سوال: (۳۷۸)

ايا له فرضو څخه وروسته پرسر باندي لاس ايښودل اوڅه دعا لوستل ثابت دي؟ په رکوع، سجدو اوقيام کي ددواړو پښو په مينځ کي څومره فاصله په کار ده؟

جواب: له فرضو څخه وروسته پرسر باندي لاس ايښودل او دادعا لوستل، بسم الله الذي لا اله الا الله هو الرحمن الرحيم اذهب عنی الهم والحزن، په حصن حصين (۲)کي راغلي دي، حديث په دي باره کي منقول دی، او ددواړو پښو بجلکي يوځای کول په رکوع او

(۱) غنية المستملی ص۳۰۲. ظفير

(۲) وګورئ: حصن حصين ص۸۵ وکان صلی الله عليه وسلم اذا صلی وفرغ من صلوته مسح يمينه علی رأسه وقال الذي لا اله الا هو الرحمن الرحيم اللهم اذهب عنی الهم و الحزن (ايضا). ظفير

سجده كي دفقهي په كتابونو كي مسنون ليكلي دي: ويسن ان يلصق كعبيه، ([1]) در مختار قال السيد ابا السعود وكذا في السجود ايضاً، شامي، ([2]) پاته دقيام په حالت كي په شامي كي يي ليكلي دي چي په پښوكي دځلورو ګوتو فاصله په كار ده: وينبغي ان يكون بينهما مقدار اربع اصابع اليد ([3]). فقط

دمختلف فيها مسائلو متعلق: **سوال**: (۳۷۹) امين په لوړ اواز او فاتحه خلف الامام او لاسونه پورته كول دحنفيانو په نزد جايز دي اوكه نه؟ او په دي مسائلو كي دحنفيانو دلائل څه دي؟

جواب: امين په لوړ اواز سره او فاتحه خلف الامام او لاسونه پورته كول جايز نه دي ([4]) او دلائل ددي مسائلو له حنفيانو سره ډير دي او اياتونه او احاديث په دي باره كي موجود دي چي په ډيرو كتابونو اورسالو كي شائع سوي دي، دامين په باره كي: واخفى بها صوته وارد دي او دقراءة خلف الامام په منع والي كي: واذا قرأ فانصتوا دمسلم په روايت كي موجود دي ([5]) او دلاسونو دپورته كولو په باره كي حديث دابن مسعود رضى الله عنه: الا اصلي بكم صلاة رسول الله صلى الله عليه وسلم فصلي ولم يرفع يديه الامرة واحدة مع تكبير الافتتاح. ([6]) فقط

څلورم فصل: **دلمانځه اداب**

چي امام پرمصلى باندي موجود وي نو ايا هغه وخت به هم مقتديان ناست اوسي؟ سوال: (۳۸۰) كله چي امام په مصلي باندي موجود وي نو امام او مقتدي ته دتكبير په وخت كي په حي علي الفلاح باندي ددريدلو متعلق چي دفقهي په كتابونو كي حين قيل حي على الفلاح مصرح دى، دا دامام اعظم رحمه الله قول دى اوكه نه دى او صحيح دى كه غلط؟

سوال: (۳۸۱-۱) ايا مسئله نوي ده او په حي على الفلاح باندي په دريدلو سره صف بندي ناممكنه ده؟

سوال: (۳۸۲- ۲) په دي قول باندي عمل كوونكي او نورو ته ترغيب وركوونكي څنګه

([1]) ردالمحتار ص۴۱۴ ج۱ باب صفة الصلوة بحث القيام ط.س. ج۱ ص۴۴۴. ظفير
([2]) الدر المختار على هامش ردالمحتار، باب صفة الصلوة ص۴۲۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۹۳. ظفير
([3]) ردالمحتار ص۴۲۱ ج۱ باب صفة الصلوة بحث القيام ط.س. ج۱ ص۴۹۳. ظفير
([4]) مسلم جلد اول ص۱۷۴.
([5]) مشكوة باب صفة الصلوة ص۷۷. ظفير
([6]) وګورئ: غنية المستملي ص۳۰۲. ظفير

دي اوعمل نه كوونكي او نورو لره منع كوونكي څنګه دي؟

جواب: (۱ – ۳) بسم الله الرحمن الرحيم، اقول وبالله التوفيق، بيشكه فقهاوو دلمانځه په ادابو كي دا خبره ليكلي ده چي كم وخت تكبير كوونكى حي على الفلاح ووايي نو دائمه ثلاثه يعني دامام صاحب رحمه الله او صاحبينو رحمهما الله په نزد امام او مقتديان ټول دي ودريږي، كذافي الدرالمختار، اوداهم په درمختار كي راغلي دي چي دا حكم استحبابي هغه وخت دى چي امام هلته محراب ته نژدي دمخكي څخه موجود وي اوكه چيري امام په خپل ځاى خپله حجره اوداسي نورو كي وي نو كم وخت چي امام راسى هغه وخت دي ټول ودريږي عبارت ددرمختار دا دى: ولها اداب تركه لايوجب اساءة ولا عتاباً كترك سنة الزوايد لكن فعله افضل ونظره الى موضع سجوده حال قيامه (الى ان قال) وقيام الامام والموتم حين قيل حي على الفلاح الخ ان كان الامام بقرب المحراب والا فيقوم كل صف ينتهي اليه الامام على الاظهر الخ وشروع الامام في الصلوة مذ قيل قد قامت الصلوة ولو اخر حتى اتمها لاباس به اجماعاً وهو قول الثاني والثلاثة هو اعدل المذاهب الخ وفي القهستاني الخ انه الاصح قوله انه الاصح لان فيه محافظة على فضيلة متابعة الموذن واعانة له على الشروع مع الامام شامي (١) نو څرګنده سوه چي دا امور له ادابو څخه دي ددي په ترك باندي دومره سختي كول چي ددي پريښوونكي ته لعنتي وايي ډير ظلم اوزياتى دى څنګه چي په خپله علامه شامي دامام په شروع كي په قدقامت الصلوة ويلو باندي بحث كړى دى چي صحيح او انصاف والا مذهب دا دى چي ترڅو پوري تكبير ويونكى دپوره تكبير څخه فارغ نه سي تر هغه وخت پوري دي امام لمونځ نه پيل كوي ولي چي په دي كي به دټول تكبير جواب ټول كسان وركوي چي مستحب او مسنون دى، په حديث كي راغلي دي چي كم وخت به تكبير كوونكى قد قامت الصلوة ويل نو هغه وخت به نبي كريم صلى الله عليه وسلم اقامها الله وادامها لوستل (٢) اودا هم په حديث شريف كي راغلي دي: سووا صفوفكم فان تسوية الصفوف من اقامة الصلوة ومن تمام الصلوة (٣) اوپه حرمينو شريفينو اونورو ښارونو كي دا عادت دى چي كم وخت مؤذن دتكبير ويلو لپاره ودريږي نو مخكي دا حديث وايي: سووا صفوفكم الحديث،

---

(١) ردالمحتار، باب صفة الصلوة فصل اداب الصلوة ص۴۴۲ – ۴۴۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۷۹. ظفير

(٢) عن ابي امامة وبعض اصحاب رسول الله ﷺ قال ان بلالا اخذ في الاقامة الى ان قال قد قامت الصلوة قال رسول الله ﷺ اقامها الله وادامها وقال في سائر الاقامة كنحو حديث عمر في اذان رواه ابوادود (مشكوة، باب فصل الاذان واجابة الموذن فصل ثاني). ظفير

(٣) مشكوة باب تسوية الصف فصل اول ص۹۸. ظفير

غرض داچي په دي باره کي شرعا وسعت دی او دفقهاوو دقول: والقيام حين قيل حي على الفلاح دا مطلب کیدی سي چي که چيري دمخکي څخه امام او مقتديان ولاړ نه وي نو دغه وخت دي ودريږي. (۱) فقط

په قدقامت الصلوة باندي دامام نيت تړل: **سوال**: (۳۸۳) ايا په قد قامت الصلوة باندي امام ته نيت تړل مفتى به قول دی؟

جواب: په شامي کي يي اصح دا خبره ګرځولي ده چي دتکبير دختميدلو څخه وروسته دي امام لمونځ پيل کړي: وفي القهستاني معزيا للخلاصة انه الاصح، لان فيه محافظة على فضيلة متابعة الموذن واعانة له على الشروع مع الامام، شامي. (۲) فقط

چي په ناسته لمونځ کوي نو درکوع او قعدي په حالت کي به نظر کم ځای لري: **سوال**: (۳۸۴) څوك چي لمونځ په ناسته کوي نو هغه به دناستي په حالت کي خپل نظر پرکم ځای لري، اوکله چي رکوع کوي نو چيري به نظر کوي؟

جواب: څوك چي په ناسته لمونځ کوي نو دناستي په حالت کي دهغه لپاره فقهاوو دا مستحب ليکلي چي دحجر لور ته دي نظر کوي او دحجر معناوي ډيري دي غيږي ته هم وايي او اړخ (بغل) ته هم وايي او په شامي کي يي دا هم ليکلي دي چي خپل قميص او داسي نور چي مخامخ وي هغه ته دي ګوري، غرض دا دی چي په کم کي خشوع حاصليږی اويو لوري ته نظروي اواخوا ديخوا نه وي هغه کار دي وکړي اودا هم په شامي کي راغلي دي چي په تياره کي اونابينا سړی دي دالله ﷻ دعظمت خيال کوي (۳) ددي څخه وروسته دي واضحه وي چي فقهاوو په ناسته لمونځ کوونکي لپاره درکوع په حالت کي هيڅ يو مقام څرګند کړی نه دی، په دي خاطر دهغه لپاره به همدا مستحب وي

(۱) والقيام للامام ومؤتم الخ (درمختار) مسارعة لامتثال امره والظاهر انه احتراز عن التاخير للتقديم حتى لوقام اول الاقامة لابأس (الطحطاوي على الدرالمختار باب صفة الصلوة اداب الصلوة ص۲۱۵ ج۱). ظفير

(۲) له دې څخه مخکي عبارت دا دی: وشروع الامام في الصلوة مذ قيل قد قامت الصلوة ولو اخر حتى اتمها لاباس به اجماعا وهو قول الثاني والثلاثة وهو اعدل المذاهب كمافي شرح المجمع لمصنفه وفي القهستاني معزيا للخلاصة انه الاصح (درمختار) قوله انه الاصح لان فيه محافظة على فضيلة متابعة المؤذن واعانة له على الشروع مع الامام (ردالمحتار باب صفة الصلوة اداب الصلوة ج۱ ص۴۴۷، ط.س. ج۱ ص۴۷۹). ظفير

(۳) اى نظره الى موضع سجوده حال قيامه الخ والى حجره حال قعوده (درمختار) قوله الى حجره مابين يديك من ثوبك قاموس وقال ايضا الحجر مثلثة المنع وحضن الانسان والمناسب هنا الاول لانه فسر الحضن بما دون الابط الى الكشح او الصدر والعضدان الخ قوله لتحصيل الخشوع علة للجميع لان المقصود الخشوع وترك التاليف الخ واذا كان في الظلام او لم يكن بصيرا يحافظ على عظمة الله تعالى لان المدار عليها (ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل اداب الصلوة ج۱ ص۴۴۲، ط.س. ج۱ ص۵۷۷). ظفير

چي په رکوع کي يي کم ځای نظر پريوزي هم هلته دي نظر ساتي او متوجه الی الله دي وي، اصل حکم همدا دی چي ټول لمونځ دي په داسي ډول کوي ګويا چي الله ته ګوري، كما ورد ان تعبد ربك كانك تراه ([1]) الحديث. فقط

ايا داقامت په وخت کی دامام اومقتديانو ناست اوسيدل اړين دي: **سوال**: (۳۸۵) دلمانځه په مقرر وخت باندي امام صاحب له خپلي حجري څخه تشريف راوړی او پرمصلي باندي په زنګنونو کښېنستی، او مقتديان هم کښېنستل مؤذن ودريدی او تکبير يي پيل کړی او مقتديان ناست دي، کم وخت چي موذن حي على الفلاح وويله، نو سمدستي امام او مقتديان ودريدل او نيت يي وتړی، خو امام دصف رسته او چپه لوري ته ونه کتل، ايا درسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه وو څه عمل و؟

جواب: په درمختار کي راغلي دي: لايوجب اساءة ولا عتابا (الى ان قال) والقيام لامام وموتم حين قيل حي على الفلاح الخ ([2]) له دي څخه څرګنده سوه چي دامام او مقتديانو په حي على الفلاح باندي دريدل له ادابو څخه دي ددي په پرېښودلو سره عذاب او ملامتيا نسته او دغه ډول په درمختار کي راغلي دي: ويصف الامام بان يامرهم بذاك قال الشمني وينبغي ان يامرهم بان يتراصوا وليسدوا الخلل وليسووا مناكبهم الخ ([3]) له دي څخه څرګنده سوه چي امام ته دا ښايي چي په تکبيرتحريمه کي دي داسي تونډي نه کوي چي صف پوره وي اوکه نه وي، او صف سيده وي اوکه نه وي او ټول لمونځ کوونکي برابر ولاړ وي اوکه نه وي، دی سمدستي نيت وتړي، داسي دي هيڅ وخت نه کوي، اوپه حي على الفلاح باندي خو امام ته دنيت تړلو حکم فقهاوو هم نه دی ليکلی بلکي په قد قامت الصلوة باندي يي ليکلی دی او په دي کي درمختار او شامي او داسي نورو دا ليکلي دي چي غوره دا ده چي دمؤذن دتکبير په ختميدلو باندي نيت وتړي، په در مختار او قهستاني کي يي ويلي دي دخلاصي څخه په نقل کولو سره: انه الاصح ([4]) په دي باندي علامه شامي ليکي: لان فيه محافظة على فضيلة متابعة الموذن

([1]) مشکوة کتاب الإيمان فصل اول. ظفير

([2]) الدر المختار على هامش ردالمحتار، باب صفة الصلوة فصل اداب الصلوة جلد اول ص۴۴۲ – ۴۴۷، ط.س. ج۱ ص۴۷۷ – ۴۷۹. ظفير

([3]) الدر المختار على هامش ردالمحتار، باب الامامة جلد اول ص۵۳۱، ط.س. ج۱ ص۵۲۸. ظفير

([4]) وشروع الامام في الصلوة مذقيل قدقامت الصلوة ولو اخر حتى اتمها لاباس به اجماعا الخ وفي القهستاني معزيا للخلاصة انه الاصل (الدر المختار، على هامش ردالمحتار اداب الصلوة ص۴۴۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۷۹). ظفير

واعانة له على الشروع مع الامام (۱) الخ. فقط

پنځم فصل: په لمانځه كي قرائت

قراءت خلف الامام: سوال: (۳۸۶) په قراءت خلف الامام كي څه قول دی؟

جواب: دحنفيانو په نزد په امام پسي قراءت دفاتحي جايز نه دی، عن انس قال صلى رسول الله ﷺ ثم اقبل بوجهه فقال اتقرؤن والامام يقرأ فسكتوا فسألهم ثلاثا فقالوا انا لنفعل قال فلا تفعلوا قال على رضي الله عنه من قرء خلف الامام فليس على الفطرة عن عبد الله بن دينار عن عبدالله بن عمر رضي الله عنه قال يكفيك قراءة الامام فهؤلاء جماعة من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم قد اجمعو على ترك القراءة خلف الإمام (۲). فقط

دجمعې دسهار په لمانځه كي سورة سجده اوسورة دهر لوستل مسنون دي: سوال: (۳۸۷) دجمعي دسهار په لمانځه كي سورة سجده اوسورة دهر لوستل مسنون دي، زيد دمسنون والي په وجي سوه دشلو جمعو په سهاركي دا دواړه سورتونه وايي او ديو ويشتمي جمعي په سهار كي بل سورت وايي په دي نظر سره چي عوام ددي لوستل فرض ونه ګڼي نو دا دغوره والى خلاف ده اوكه نه؟

جواب: په احاديثوكي بيشكه داسي راغلي دي مګرحنفيان په دي باندي په ځينو وختونو كي عمل كول ښه ګڼي، او په دي باندي هميشه والى نه خوښوي، ولي چي دوی دسورت تعيين دهر يوه لمانځه لپاره منع بولي په دې خاطر كله كله كه داسي وكړي نو څه تكليف نسته، دوام دي په دي باندي نه كوي، په در مختار كي راغلي دي: ويكره التعين كالسجدة وهل اتي لفجر كل جمعة بل يندب قراءتهما احيانا (۳). فقط

دويم ركعت له مخكني څخه اوږدول او په مينځ كي كوچني سورت پريښودل مكروه دي:

سوال: (۳۸۸) يو سړی داول ركعت له قراءت څخه ددويم ركعت قراءت اوږدوي او وړوكی سورت په مينځ كي پريږدي دا جواز لري اوكه نه؟

جواب: په دويم ركعت كي په نسبت دقراءت داول ركعت له دريو اياتونو څخه زيات اوږدول مكروه دی همدغه ډول دكوچني سورت فاصله كول هم مكروه دي، كذا في الدر المختار. (۴) فقط

---

(۱) ردالمحتار باب صفة الصلوة اداب الصلوة ص۴۷۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۷۹. ظفير صديقى

(۲) شرح معاني الاثار جلد اول ص ۱۲۸ – ۱۲۹. ظفير

(۳) الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۴. ظفير

(۴) وتطال اولى الفجر على ثانيتها فقط وقال محمد اولى الكل حتى التراويح قيل وعليه الفتوى واطالة الثانية على الأول يكره تنزيها اجماعا ان بثلاث ايات ان تقاربت طولا وقصرا والا اعتبر الحروف والكلمات الخ وان =

له سورت څخه مخکې بسم الله: **سوال**: (۳۸۹) که چيري دوه رکوع لرونکی سورت وايي، او دسورت په پيل کي بسم الله ووايي نوپه دويم رکعت کي چي کله دهمدغه سورت دويمه رکوع وايي نو بسم الله به وايي اوکه نه؟

جواب: په دويمه رکوع باندي دي بسم الله نه وايي. ([1])

دقراءت ديوخو صورتونو په اړوند پوښتنه: **سوال**: (۳۹۰) که چيري په فرض لمانځه کي (۱) په اول رکعت کي سورت همزه په دويم کي سورة فيل (۲) يا په اول رکعت کي سورة همزه په دويم کي سورة قريش (۳) يا په اول کي سورة همزه، په دويم کي سورة ماعون (۴) ياپه اول کي سورة فيل په دويم کي سورة همزه (۵) يا په اول کي سورة قريش په دويم کي سورة فيل (۲) ياپه اول کي ماعون په دويم کي فيل ووايي عمدا يا سهوا نو په لمانځه کي خو به يو ډول کمی نه راځي؟

جواب: په اول صورت کي پرته له کراهته صحيح دی، دويم مکروه، دريم جايز، څلورم مکروه، پنځم مکروه، شپږم مکروه دي، اوپه کم کي چي کراهت دی په عمدا لوستلو کي دي، اوپه فرضو کي دي، په نفلو کي هر ډول ويل جائزدي. ([2])

ښځي ته په لمانځه کي قرآن په لوړ اواز سره لوستل صحيح نه دي: **سوال**: (۳۹۱) که چيري حافظه ښځه نفلي لمونځ يا په تراويحو کي قراءت په لوړ اواز سره په کورکي دننه وايي اوپه دغه کورکي له خاوند اونورو محارمو پرته بل څوك نه وي نوپه لوړ اواز سره قراءت به په لمانځه کي هغي ته جايز وي اوکه نه؟ او دهغي لمونځ به صحيح وي اوکه نه؟

جواب: ښځه چي دقرآن حافظه وي په لمانځه کي جهر نه سي کولای، ځکه چي دښځي کلام دځينو په وړاندي عورت دی: شامي جلد اول وعلى هذا لوقيل اذا جهرت بالقراءة في الصلوة فسدت كان متجها ([3]) الخ. فقط

په فرض لمانځه کي فتحه ورکول: **سوال**: (۳۹۲) يوه سړي فرض لمونځ وکړی، له سورة فاتحي څخه وروسته چي هغه سورت ولوستی نوپه هغه کي هغه سهوه سو يو مقتدي

= باقل لا يكره الخ ويكره الفصل بسورة قصيرة (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۰۵ - ۵۰۲ - ۵۱۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۱ - ۵۴۲. ظفير

[1] وتعوذ سرا الخ وسمي الخ سرا في اول كل ركعة ولو جهرية (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۵۲ - ۴۵۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۸۹). ظفير

[2] ويكره الفصل بسورة قصيرة وان يقرء منكوسا الخ ولا يكره اذا كان عن قصد فلو سهوا فلا كما في شرح المنية (ردالمحتار فصل في القراءة جلد اول ص۵۱۰، ط.س. ج۱ ص۵۴۲). ظفير

[3] ردالمحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص۳۷۷، ط.س. ج۱ ص۴۰۲. ظفير

هغه ته فتحه ورکړه نو بل سړي اعتراض وکی چي په فرض لمونځ کي امام ته فتح ورکول نه وو په کار، په تراویحوکي که چیري دامام څخه هیره وسي نو فتح ورکول جایز ده، ایا په فرض لمانځه کي فتحه ورکول جایز دي اوکه نه؟

جواب: فتحه ورکول په فرض لمانځه کي هم صحیح دي او لمونځ صحیح دی او تفصیل ددي دفقهي په کتابونو کي دی، په درمختار او شامي او داسي نورو کي یي دا لیکلي دي چي لمونځ کیږي. (۱) فقط

<u>په امام پسی امین او سورت فاتحه</u>: **سوال**: (۳۹۳) ځیني معلمان وایي چي په امام پسي له سورت فاتحي څخه وروسته امین په زوره ویل ناجایز دي اوپه امام پسي سورة فاتحه لوستل ناجایز دي، کم چي شرعي حکم وي تحریر یي وفرمایاست، او لاسونه به پرکم ځای تړو؟

جواب: په امام پسي ببشکه سورة فاتحه لوستل نه ښایي، لکه څنګه چي دصحیح مسملم په حدیث کي راغلي دي: واذا قرء فانصتوا چي کله امام لوست کوي نو تاسو چپ اوسئ، او لاسونه له نامه څخه لاندي وتړئ، کما هو ظاهر الحدیث او امین په زوره مه وایاست کرار یي ووایاست، لانه دعاء والدعاء بالاخفاء قال الله تعالی: ادعوا ربکم تضرعاً وخفیة (۲) فقط

<u>یوایت یی لوستی هغه یی پریښودی او له بل ځای څخه یی پیل کړی</u>: **سوال**: (۳۹۴) امام قراءت پیل کړی اوهغه سهوه سو حالانکه په قدر دیوه ایت یي لوستل کړي وه، هغه یي پرهغه ځای پرېښووی اوله بل ځای څخه یي ولوستل، دا څنګه سو؟

جواب: دایي ښه ونه کړل. (۳) فقط

<u>له فاتحی څخه وروسته دقراءت اندازه</u>: **سوال**: (۳۹۵) له فاتحي څخه وروسته امام ته ددریو ایاتونو له لوستلو څخه وروسته رکوع کول پکاردي که یو ایت کافي دی؟

جواب: له یوه ایت څخه کم ویل نه ښایي. (۴) فقط

---

(۱) بخلاف فتحه علی امامه فانه لایفسد مطلقا لفاتح واخذ بکل حال (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة جلداول ص۵۸۲، ط.س. ج۱ ص۶۲۲). ظفیر

(۲) سورة الاعراف رکوع ۷. ظفیر

(۳) یکره ان یفتح من ساعته کما یکره للامام ان یلجئه الیه بل ینتقل الی اية اخری لا یلزم من وصلها ما یفسد الصلوة او الی سورة اخری او یرکع اذا قرء قدر الفرض الخ وفي روایة قدر المستحب الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة جلد اول ص۵۸۲، ط.س. ج۱ ص۶۲۲). ظفیر

(۴) قراءة المصلي لو اماما او منفردا الفاتحة وقراءة بعدها وجوبا سورة اوثلاث ایات ولوکانت الاية والایتان =

دواجب قراءت له اندازې څخه وروسته فتح ورکول: **سوال**: (۳۹۶) کله چي امام له دريو اياتونو څخه تير سي او وروسته ورڅخه هير سي نوپه کار خوداده چي رکوع وکړي اومقتدي ورته دشاوخوا څخه ښوونه ونه کړي خو له امام څخه مخکي هم هير سوه او مخکي روان وو نوکه چيري مقتدي ورته ښوونه وکړه نو دا ښوونکی دکم فعل مرتکب سو دمکروه تنزيهي يا تحريمي يا دحرامو ياڅه؟

جواب: لمونځ دفتحه ورکوونکي او اخيستونکي صحيح دی، مګر په مقدار دواجب يا دمستحب له قراءت لوستلو څخه وروسته فتحه ورکول يا دامام فتحي ته انتظار کول اومجبورول مکروه دي اودا مکروه تنزيهي دي، کذا في الدرالمختار (۱) والشامي. فقط

په دويم رکعت کی اورد قراءت مکروه تنزيهي دی: **سوال**: (۳۹۷) دامسئله چي مشهوره ده چي په اول رکعت کي کوچنی سورت مکروه دی او په دويم کي لوی سورت مکروه دی دا مکروه کم مکروه دی؟ تحريمي که تنزيهي او په لوی او کوچني کيدلو کي يوه اندازه سته چي دومره لوی وي يا دومره کوچنی وي او که نه؟ که چيري يو سړی په اول رکعت کي سورة کوثر ووايي او په دويم رکعت کي سورة اخلاص نو دابه مکروه وي او که نه؟ او په سورتونو کي چي کم ترتيب دی دا سنت دی که واجب؟ ددي په ترك کولو سره سجده سهوه لازميږي اوکه نه؟

جواب: في الدرالمختار واطالة الثانية على الاولى يكره تنزيها اجماعاً إن بثلاث ايات الخ (۲) نوځرګنده سوه چي که چيري چا په اول رکعت کي سورة کوثر اوپه دويم رکعت کي سورة اخلاص ولوستی نو دامکروهه نه دی ولي چي په دويم سورت کي ددريو اياتونو زياتوالی نسته. (۳) فقط

قراءت مکروهه: **سوال**: (۳۹۸) يو امام په دوو رکعتونو کي له فاتحي څخه وروسته د: قل اللهم مالك الملك څخه دوه څلور اياتونه ولوستل او باقاعده يي لمونځ تمام کړی، دا لمونځ مکروه سو اوکه نه؟ په ردالمحتار قبيل باب الامامة کي يي ليکلي دي: قوله وان

= تعدل ثلاث ايات قصار انتفت كراهة التحريم ذكره الحلبي ولا تنتفي التنزيهية الا بالمسنون (الدرالمختار على هامش رد المحتار، باب صفة الصلوة جلد اول ص ۴۵۸ - ۴۵۹، ط.س. ج۱ ص۴۹۱). ظفير

(۱) ويكره ان يفتح من ساعته كما يكره للامام ان يلجئه اليه بل ينتقل الى اية اخرى لايلزم من وصلها مايفسد الصلوة او الى سورة اخرى او يركع اذا قرأ قدر الفرض كما جزم به الزيلعي (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة وما يكره فيها ج۱ ص ۵۸۲، ط.س. ج۱ ص۲۲۲). ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۰۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۲. ظفير

(۳) واطالة الثانية على الاولى يكره تنزيها اجماعا ان بثلاث ايات الخ وان باقل لا يكره (ايضا ج۱ ص۵۰۲). ظ

يقرء في الاولى من محل الخ قال في النحو وينبغي أن يقراء في الركعتين اخر سورة واحدة لا آخر سورتين فانه مكروه عند الاكثر اه ددي عبارت څخه څه مطلب دی؟

جواب: په دي صورت کي لمونځ مکروه تحريمي نه دی ولي چي په عبارت ددرالمختار کي يي مکروهه دا ليکلی دی چي په دوو رکعتونو کي ددوو سورتونو اخر ووايي، او ديوه سورت وروستني اياتونه په دواړو رکعتوکي لوستل مکروه نه دي يعني مکروه تحريمي نه دي مګر غير اولی يعني مکروه تنزيهي دي ځکه چي غوره او اولی سنت دا دي چي په هر يو رکعت کي دسورة فاتحي څخه وروسته پوره سورت ووايي کما في الدرالمختار بان الاصل في کل رکعة الفاتحة وسورة تامة ([1]) الخ، او ښکاره ده چي دغير اولی مقابل مکروه تنزيهي دی. فقط

په سري لمانځه کي فاتحه خلف الامام: **سوال**: (۳۹۹) په سري قراءت کي په امام پسي الحمد لوستل دامام اعظم رحمة الله عليه په نزد صحيح دی اوکه نه؟ که چيري نه وي نو ددي څه وجه ده؟

جواب: په حکم داذا قرء فانصتوا ([2]) مقتدي ته په امام پسي څه لوستل نه ښايي برابره خبره ده که لمونځ سري وي او که جهري. ([3]) فقط

په قراءت کي دترتيب لحاظ: **سوال**: (۴۰۰) په لمانځه کي له سورت فاتحي سره چي سورتونه يو ځای کول کيږي دهغو ترتيب په لاندي ډول کول کيږي، يعني اول (اذا جاء) بيا (تبت) يا دغه ډول اول (الم ترکيف) اوپه بل رکعت کي (لايلاف) دي صورت ته خو مسنون اوجايز ويل کيږي آيا ددي خلاف هم جايز دی، مثلا په اول رکعت کي (تبت) اوپه دويم کي (اذا جاء) او داسي نور، يو سړی په اول رکعت کي (اذا جاء) وايي اوپه دويم کي (قل هو الله احد) يا (سورت الناس) يوځای کوي ايا دا صحيح دی؟ يو سړی په اول رکعت کي نيم سورت مزمل مثلا ووايي او بيا د(قل هوالله) له لوستلو څخه وروسته دجمعي په لمانځه کي رکوع کوي اوپه دويم رکعت کي معوذتين دواړه ووايي اورکوع کوي دا جايز

([1]) ردالمحتار فصل في القراءة ج۱ ص۵۰۵، ط.س. ج۱ ص۵۴۲. ظفير

([2]) مشکوة باب القراءة في الصلوة ص۷۹ – ۸۱. ظفير

([3]) والمؤتم لايقرء مطلقا ولا الفاتحة في السرية اتفاقا ومانسب الى محمد (اي من استحباب قراءة الفاتحة في السرية احتياطا، شامي) ضعيف کما بسطه الکمال (الدر المختار) حاصله ان محمدا قال في کتابه الاثار لانرى القراءة خلف الامام في شيئ من الصلوة يجهر فيه او يسر، ودعوى الاحتياط ممنوعة بل الاحتياط ترک القراءة لانه العمل باقوي الدليلين وقد روى الفساد بالقراءة عن عدة من الصحابة فاقواهما المنع (ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۴). ظفير

دی اوکه نه؟

جواب: سورتونه په ترتیب سوه لوستل واجب دي، نو په اول رکعت کي تبت او په دويم کي (اذا جاء) لوستل صحيح نه دي او په فرائضو کي ديوه کوچني سورت فاصله مثلا په اول رکعت کي (اذا جاء) او په دويم رکعت کي (قل هو الله) لوستل مکروه دي اوپه نوافلو کي داسي کول صحيح دي، اوپه يورکعت کي دنيم سورت مزمل مثلا دلوستلو څخه وروسته قل هو الله دهغه سره يوځای کول مکروه دی، همدارنګه په دويم رکعت کي معوذتين يعني دوه سورتونه لوستل هم ښه نه دي که څه هم چي لمونځ صحيح دی. (۱) فقط

<u>په فاتحه خلف الامام باندي دعمل بحث</u>: سوال: (۴۰۱) ددين په بزرګانو کي چا په فاتحه خلف الامام او رفع اليدين او امين بالجهر مسائلو باندي عمل کړی دی اوکه نه؟

جواب: ځينو کړی دی خو داکثرو صحابه وو او تابعينو او تبع تابعينو عمل ددي خلاف دی او په خپله احاديث مرفوعه ددي خلاف وارد دي. (۲) فقط

<u>دترتيب خلاف سورتونه په لمانځه کی لوستل مکروه تحريمي دي او دلوستلو په صورت کی راګرځول واجب دي</u>: سوال:

(۴۰۲-۱) که امام يا منفرد په فرض يا سنت اونفل لمانځه کي په اول رکعت کي (لايلاف) او په دويم کي سورة (فيل) يا په اول رکعت کي سورة (فيل) اوپه دويم کي (الم نشرح) ووايي، نو لمونځ مکروه تحريمي سو اوکه مکروه تنزيهي، او دلمانځه راګرځول اړين دي که نه؟

<u>دکوچني سورت فصل مکروه دي؟</u> سوال: (۴۰۳-۲) که چيري څوك دکوچنيو سورتونو څخه ديوه سورت دلوستلو وروسته په مينځ کي يو سورت پرېږدي اوپه دويم رکعت کي دريم سورت ووايي يا په اول رکعت کي کوچنی سورت او په دويم کي لوی سورت ووايي نوڅه حکم دی؟

---

(۱) ويكره الفصل بسورة قصيرة وان يقرء منكوسا الا اذا ختم فيقرء من البقرة الخ ولا يكره في النفل شيء من ذلك (درمختار) وفي التتارخانية اذا جمع بين سورتين في ركعة رأيت في موضع انه لاباس به وركع شيخ الاسلام لاينبغي له ان يفعل الخ (ردالمحتار فصل في القراءة ج۱ ص۵۱۰، ط.س. ج۱ ص۵۴۲). ظفير

(۲) والمؤتم لا يقرأ مطلقا ولا الفاتحة السرية اتفاقا وما نسب الى محمد فضعيف كما بسطه الكمال فان قرء كره تحريما وتصح في الاصح وفي درر البحار عن مبسوط خواهر زاده انها تفسد ويكون فاسقا وهو مروى عن عدة من الصحابة فالمنع احوط (درمختار) مروى عن عدة من الصحابة قال في الخزائن وفى الكافي ومنع الموتم عن القراءة ماثورة عن ثمانين نفرا من كبار الصحابة منهم المرتضى والعبادلة وقد دون اهل الحديث اساميهم (ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل في القراءة ج۱ ص۵۰۸، ط. س. ج۱ ص۵۴۴) واذا قرء فانصتوا (مسلم باب التشهد).

جواب: (۱) په فرض او واجب لمانځه کي دغه ډول برعکس ترتیب یعني معکوس لوستل مکروه تحریمي دی او حسب قاعده کل صلوة ادیت مع کراهة التحریم تجب اعادتها (۱) ددي راګرځول واجب دي (۲) او په نوافلو کي مکروه نه دی: وان یقرأ معکوسا الخ ولا یکره في النفل شيء من ذلك الخ درالمختار (۳) او دامام او منفرد حکم په دي باره کي برابر دی. (۴) فقط

(۲) دلنډ سورت فصل کول په فرائضو کي مکروه دی، اوپه دویم رکعت کي په اندازه ددریو ایاتونو یا زیات داول رکعت څخه قراءت زیات کول مکروه تنزیهي دی: واطالة الثانية على الاولى يكره تنزيها اجماعا ان بثلاث ايات (۵) الخ درمختار. فقط

په لمانځه کی دسجدې ایت پریښودل مکروه دی: **سوال**: (۴۰۴) امام چي دسجدي ایت ته درسیدلو څخه وروسته دسجدي ایات پریږدي او رکوع وکړي نو څه حکم دی؟

جواب: په درمختارکي راغلي دي: وكره ترك اية سجدة وقراءة باقي السورة (۶) الخ نوڅرګنده سوه چي دسجدي ایت بالقصد پرېښودل مکروه دی. فقط

په اخر دسورت کی امین او نور کلمات دجمعې په لمانځه کی ویل نه دي په کار: **سوال**: (۴۰۵) دسورةِ فاتحې په اخره کي په کرار اواز سره دامین ویلو څخه علاوه دسورة بقري په اخره کي امین، دبني اسرائیل په اخیره کي تکبیر، دسورة ملك په اخره کي اللهم (الله) ربنا ورب العالمین، دسورة قیامه او مرسلات او والتین په اخره کي کلمات مشهوره مسنونه، دسورة والضحی څخه دقران تر اخره پوري دهر سورت په اخر کي تکبیر، دځینو ایاتونو په آخره کي څه الفاظ په مسنونه ډول دتلاوت په مهال ویل کیږي لکه په سورت (طه) کي له (وقل رب زدني) علما څخه وروسته به حضرت ابن مسعود ﷺ اللهم زدني علما وایمانا ویقینا، فرمایل اوداسي نور؟ نوپه فرضو اونفلو لمونځونوکي امام اومنفرد

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب كل صلوة اديت مع كراهة التحريم الخ ص۴۲۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۵۷. ظفير

(۲) شامي چي کم ځای ددي قاعدي تشریح کړي ده هلته یي ددي وضاحت کړی دی چي په ذکر سوي صورت کي سجده سهوه لازمه نه ده: قالوا يجب الترتيب في سور القران فلو قرء منكوسا اثم لاكن لايلزمه سجود السهو لان ذلك من واجبات القراءة لامن واجبات الصلوة كما ذكره في البحر في باب السهو الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۵۸). ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۱۰ – ۵۱۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۲. ظفير

(۴) ويكره الفصل بسورة قصيرة الخ ولا يكره في النفل شيء من ذلك ايضا ص۵۱۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۲. ظ

(۵) الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۰۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۲. ظفير

(۶) الدرالمختار باب سجود التلاوة ص۷۲۹. ظفير

دا کلمات دحنفیانو په نزد پټ دسورت فاتحي دامين په ډول ویلای سي او که نه؟

جواب: دحنفیانو په نزد دا اذکار په نوافلو کي یا په منفردا خارج عن الصلوة باندي محمول دي، دفرضو او دنفلو په جماعت کي صحيح نه دي كذا في شرح المنيه لاباس للمتطوع المنفرد ان يتعوذ بالله من النار الخ وان كان المصلي المنفرد في الفرض كره له ذلك الخ واما الامام والمقتدي فلا يفعل ذلك السوال والتعوذ لا في الفرض ولا في النفل الخ شرح منيه كبيرى. فقط (ددي کتاب نوم غنية المستملي دی، دکبیري او شرح منیه په نوم سره په علماؤ کي شهرت لري. ظفیر)

بسم الله دقرآن جز دی او که نه؟ **سوال**: (۴۰۶) بسم الله دقران جز دی او که نه؟ که چیري وي نو دلوړ اواز په لمانځه کي بسم الله په لوړ اواز سره ولي نه وايي، دلته يو حافظ درمضان په میاشت کي دقران داورولو په وخت کي يوازي دقل هو الله په پیل کي بسم الله په لوړ اواز سره ولوسته؟

جواب: دحنفیانو په نزد بسم الله دهر یو سورت جزء نه ده، یوازي دفصل بين السورتين لپاره په اوائلو دسورت کي لیکل کیږي او پرته له سورة توبي څخه دهر یوه سورت په اول کي ددي لیکل ثابت دي، خو جز دسورت کیدل یې ثابت نه دي، ددي لپاره دجهر کولو دهر سورت سره ددي حکم نسته یوازي په ټول قران شریف کي یو ایت بسم الله هم دی، ددي وجه په تراویحو کي کله چي قران شریف پوره لوستل کیږي نو په یوځای کي جهر کولای سي. [1] فقط

دکوچني سورت تعریف: **سوال**: (۴۰۷) کم ایت چي دسورة کوثر برابروي لوی ګڼل کیږي دفقهي دیوه کتاب یوعبارت تحریر وفرمایاست چي دلږ تر لږه لوی ایت اندازه څومره ده؟

جواب: په در مختار کي راغلي دي: وضم اقصر سورة كالكوثر او ما قام مقامها وهو ثلاث ايات قصار نحو ثم نظر ثم عبس وبسر ثم ادبر واستكبر، وفي الشامی قوله تعدل ثلاثا قصارا اي مثل ثم نظر الخ وهي ثلثون حرفا فلو قرء اية طويلة قدر ثلثين حرفا يكون قد اتي بقدر ثلث ايات [2] الخ. فقط

په لمانځه کي متواتر قراءتونه: **سوال**: (۴۰۸) دقراءة دفن اصول اوفرع پردوه ډوله دي، اوله اوو (۷) امامانو او په څوارلسو روایاتو سره روایت کړل سوی دی، نو په لمانځه کي دننه

---

[1] وهي اي بسم الله الخ اية واحدة من القران كله انزلت للفصل بين السور الخ وليست من الفاتحة ولا من كل سورة في الاصح (الدرالمختار على هامش ردالمحتار، باب صفة الصلوة بعد الفصل ص۴۵۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۹۱).

[2] ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة ص۴۲۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۵۸. ظفير

دټولو دقراءت په جمع کولو سره لوستل کيږي اوکه يوازي فرعي، يعني دفرش الحروف اختلاف په لمانځه کي دننه اجراء کول کيږي اوکه نه؟ يوه کلمه ديوه راوي او يوه کلمه دبل راوي په لمانځه کي اجراء کولای سي او که نه؟

جواب: لمونځ په ټولو رواياتو متواتره وو سره صحيح دي مګر روايات غريبه غير معروفه په لمانځه کي لوستل ښه نه دي که څه هم هغه متواتره وي، ځکه چي عوامو ته په دي کي مضرت دی: کما في الدرالمختار ويجوز بالرويات السبع وفي الشامي بل يجوز بالعشر (ايضًا) لکن الاولى ان لايقرأ بالغريبة عند العوام صيانة لدينهم الخ وفي الشامي قوله بالغريبة اي بالروايات الغريبة والامالات لان بعض السفهاء يقولون ما لايعلمون فيقعون في الاثم والشقاء ولا ينبغي للائمة ان يحمل العوام على ما فيه نقصان دينهم ولا يقرء عندهم مثل قراءة ابي جعفر وابن عامر وعلى بن حمزة والکسائي صيانة لدينهم فلعلهم يستخفون او يضحکون وان کان کل القراءة والروايات صحيحة فصيحة ومشائخنا اختاروا قراءة ابي عمر وحفص عن عاصم الخ من التتارخانية عن فتاوى الحجة ([1]) الحاصل کم قراءت چي اوس عموما مروج دی اوپه قرآنونو کي چاپ دی يعني قراءت دحفص رحمه الله له عاصم رحمه الله څخه، همغه لوستل په کار دي. فقط

<u>په رموز اوقاف باندي ددريدلو او نه دريدلو تحقيق</u>: سوال: (۴۰۹) الحمد لله رب العلمين * الرحمن الرحيم، او: من شر الوسواس الخناس * الذي يوسوس، او: على کل شيء قدير * الذي خلق الموت والحيوة، الآية کي پر هغه ايت چي لوړ (لا) لرونکي وي پردې باندي که چيري دساه دختميدلو يا بنديدلو په وجه وقف وکړي او اخري لفظ دوباره ونه وايي او مخ ته ولاړ سي نو په لمانځه کي څه خلل دی، او په دريم مثال کي يي که چيري وقف کړی وي نو مخ ته الذي لوستلای سي اوکه نَ الَّذِيْ به وايي؟

جواب: په ايت (لا) باندي دضرورت په وجه په وقف کولو کي هيڅ تکليف نسته او دماقبل لفظ دتکرارولو ضرورت نسته او په لمانځه کي هيڅ خلل نه راځي، او په دريم مثال کي الذي او نَ الَّذي دواړه ډوله لوستل صحيح دي، خو دوقف په حالت کي الذي لوستل ښايي. فقط

<u>دحنفي متفق عليه مسئلي څخه خلاف دحضرت شاه ولي الله رحمه الله قول معتبر نه دی</u>: سوال: (۴۱۰) کله چي دشاه ولي الله صاحب قول په اسرار شريعت کي دی چي په امام پسي فاتحه لوستل له نه لوستلوڅخه غوره ده، او شاه صاحب له حنفي علماوو څخه دی، په

([1]) ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۰۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۱. ظفير

داسي صورت کي که چيري يوحنفي (سړی) په امام پسي سورة فاتحه ووايي نوڅنگه ده؟
جواب: حنفي ته په امام پسي سورة فاتحه او داسي نور هيڅ لوستل نه ښايي (۱) او شاه ولي الله غوندي محقق که چيري په يوه مسئله کي خلاف وکړي نو دنورو لپاره دا فعل صحيح نه دی، هغوي ته دخپل امام متبوع تقليد کول په کار دي، خصوصا کله چي ددلائلو سره هم مذهب دامام قول وي. (۲) فقط

که چيري امام دوقف پررمزونو باندي وقف ونه کړي نو هم صحيح دي؟ سوال: (۴۱۱) امام دسهار دلمانځه په دويم رکعت کي له اذا السماء انفطرت وانتثرت څخه پر: يا ايها الانسان ما غرك بربك الكريم الذي، باندي ساه واخيسته، يو سړی وايي چي په داډول لوستل ناجايز دي؟
جواب: په دي صورت کي قراءت صحيح سو او په لمانځه کي هيڅ خلل او فساد رانغی. (۳) فقط

په سورت فاتحه کی په سکته نه کولو سره دشيطان نوم نه جوړيږي: **سوال**: (۴۱۲) دځينو قول دی چي په الحمد يعني سورت فاتحه کي (۷) ځايه سکتي کول په کار دي، که چيري دغه سکتي ونه کړي نو شيطاني نوم پيدا کيږي چي مفسد دصلوة دی، داقول صحيح دی که غلط؟
جواب: دا قول بالکل باطل او سچه لغوه دی کما حققه في القول الفاصل بين الحق والباطل للامام محمد بن عمرو بن خالد القرشي حيث قال اعلم ان هولاء القائلين عموا فيما زعموا وغفلو فيما نقلوا بل ان ما زعمو وسواس صرف وما نقلوه افتراء محض الخ (۴). فقط

چي بی ځايه وقفه وکړي يا جز دسورت په لمانځه کي څوک ووايـی نو لمونځ کيږي: **سوال**:

---

(۱) ولايقرء المؤتم خلف الامام الخ لنا قوله عليه السلام من كان له امام فقراءة الامام له قراءة وعليه اجماع الصحابة وركن مشترك بينها لكن حظ المقتدي الانصات والاستماع قال عليه السلام واذا قرأ فانصتوا ويستحسن على سبيل الاحتياط فيما يروي عن محمد ويكره عندهما لما فيه من الوعيد (هدايه، فصل في القراءة ص۱۵۹). ظفير

(۲) قالوا رسم المفتي انما اتفق عليه اصحابنا في الروايات الظاهرة يفتي به قطعا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار مقدمه جلد اول ص۲۳ – ۲۴، ط.س. ج۱ ص۲۹). ظفير

(۳) ومنها زلة القاري فلو في اعراب او تخفيف مشدد وعكسه الخ او بوقف وابتداء لم تفسد وان غير المعنى به يفتي (الدر المختار على هامش ردالمحتار زلة القاري ص۵۹۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۶۳۰). ظفير

(۴) کتاب مذکور القول الفاصل بين الحق و الباطل. ظفير

(۴۱۳-۱) زید یو قاري دی چي په ډیرو ځایونو کي اضطراري وقف کوي وجه یې دا ده چي قراءت په ترتیل سره وایي په ماخستن او سهار کي اکثر جز دسورت وایي په لمونځ کوونکو کي نور خلک هم قران صحیح پرته له اضطراري وقفو څخه نه سي لوستی، په لمونځ کوونکو کي ځیني داسي لوستل طبعا ډیر مکروه ګني، په لوی ایت کي څو ځایه او په کوچني ایت کي یوځای اوکله دوه ځایه وقف کوي مثلا (اطعمهم) وقف (الذي اطعمهم من جوع وامنهم) وقف (من خوف) او مثلا (انا انزلنه في ليلة القدر وما) اضطراري (وما ادراك ما ليلة القدر) په دي ډول وقف کول جایز دی که مکروه؟

سوال: (۴۱۴-۲) او دسورت دجزء دلوستلو څه حکم دی؟

سوال: (۴۱۵-۳) دځینو لمونځ کوونکو مکروه ګڼل دترك امامت لپاره دلیل دی اوکه نه؟

سوال: (۴۱۶-۴) کله چي یاد سوی قاري په تدویر سره له اضطراري وقف څخه پرته هم لوستل کولای سي، نو ددا ډول لوستلو څخه دهغه منعه کول ښایي اوکه نه؟

جواب: (۱) په دغه ډول اضطراري وقفونو کي دوباره دایت په راګرځولو سره هیڅ کراهت نه پاته کیږي او مقتدیانو ته هم ددي څخه کراهت کول نه دي په کار مګر کله چي بل صحیح قران لوستوونکی موجود وي چي په دومره کثرت سره اضطراري وقف نه کوي نو دهغه امام کیدل ښه دي ځکه چي دمقتدیانو رعایت بهتر دی. (۱)

(۲) او جز دسورت همیشه لوستل خلاف سنت دي اوغیر اولی دي بهتر دا دی چي په لمانځه کي پوره سورت ولوستل سي په شامي کي راغلي دی: صرحوا بان الافضل في كل ركعة الفاتحة وسورة تامة (۲) الخ جلد اول ص۳۲۳ شامي.

(۳) دلمونځ کوونکو دیو امام امامت مکروهه ګڼل که چیري دامام دخرابي په وجه وي نودغه امام ته امامت ورکول مکروه دي، اوکه چیري په امام کي څه خرابی نه وي، نو دمقتدیانو مکروه ګڼل بد دي، كذا في الدرالمختار. (۳)

(۴) ښېشکه که چیري په تدویر سره پرته له اضطراري وقفونو څخه لوستل کولای سي نو همدا ډول لوستل په کار دي. فقط

---

(۱) وهو ما في الصحيحين اذا صلى احدكم للناس فليخفف فان فيهم الضعيف والسقيم والكبير واذا صلي لنفسه فليطول ماشاء الخ (ردالمحتار باب الامامة ص۵۱۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۳۵). ظفير

(۲) ردالمحتار، باب صفة الصلوة فصل في القراءة جلد اول ص۵۰۵، ط.س. ج۱ ص۵۴۱. ظفير

(۳) ولو ام قوما وهم له كارهون ان الكراهة لفساد فيه او لانهم احق بالامامة منه كره له ذلك تحريما الخ وان هو احق لا، والكراهة عليهم (الدر المختار على هامش ردالمحتار، باب الامامة ص۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۵۹). ظفير

فاتحه خلف الامام دثنا په قصد لوستل څنګه دي: سوال: (۴۱۷) فلو قرء المقتدي لزم له قراءتان وهو غير معهود في الشرح وهذا انما يتم لوقرأ على نية الفاتحة اما لو قرء الفاتحة على نية الثناء فيخرج عن القرانية فلا يلزم قراءتان كما تقول لو قرء الفاتحة في صلوة الجنازة على نية الدعاء لاباس به الخ اركان اربعه ص۱۰۲، جواب غوښتونکي خبره داده چي دحنفيانو په نزد فاتحه خلف الامام په پنځو لمونځونو کي په اركان اربعه نومي كتاب كي جايز بولي، آيا حنفيان چي دا ومني نو له وهابيانو څخه به څه ډول ځان خلاصوي؟

جواب: قال في الدرالمختار: والموتم لايقرء مطلقا ولا الفاتحة في السرية اتفاقاً وما نسب لمحمد رحمه الله ضعيف كما بسطه الكمال فان قرء كره تحريما وتصح في الاصح وفي دررالبحار وعن مبسوط خواهر زاده انها تفسد ويكون فاسقاً وهو مروي عن عدة من الصحابة فالمنع احوط الخ درالمختار، وفي الشامي قوله: مروي عن عدة من الصحابة فالمنع احوط قال في الخزائن وفي الكافي ومنع المؤتم من القراءة مأثورة عن ثمانين نفرا من كبار الصحابة منهم المرتضى والعبادلة [1] الخ وفيه قبيله وقد روي الفساد بالقراءة عن عدة من الصحابة رضى الله عنهم فاقواهما المنع. شامي، نو څرګنده سوه چي دحنفيانو په نزد هيڅ ډول اجازت دفاتحي دلوستلو په امام پسي نسته چي په دي کي خوف دفساد دلمانځه وي كما روى عن عدة من الصحابة رضى الله عنهم قاله الكمال، او جنازه كه له دي امله چي ددعا محل دى نو په دي كي په نيت دثناء جواز كيداى سي او صلوة خمسه محل دقراءت دى ددې لپاره داحتياط خبره داده چي په هيڅ ډول فاتحه په امام پسي ونه وايي. فقط

ايا دتجويد په عدم رعايت سره لمونځ فاسديږي؟ سوال: (۴۱۸) امام چي په تجويد پوهيږي او بيا هم قراءت په تجويد سره نه وايي، مثلاً دايت پرځای ونه دريدی يا پرته له ايت څخه يي ساه واخيسته يا پر وقفۀ سكته باندي په ساه اخيستلو سره ودريدی يا يي دوقف او وقف النبي خيال ونه ساتی يا يي دمد پر ځای قصر وکی يا يي دنون داظهار پر ځای اخفاء وکړه نو لمونځ به جائز وي اوکه نه؟

جواب: لمونځ وسو. فقط

په لمانځه کی چی دقرآن ژباړه ولوستل سي نو لمونځ کيږي اوکه نه؟ سوال: (۴۱۹-۱) که چيري په لمانځه كي دننه دقران مجيد ژباړه په بله ژبه كي وكړل سي نو لمونځ به صحيح

---

[1] ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۴. ظفير

سي اوکه نه؟

له قران څخه مقصود لفظ دی که معنی؟ سوال: (۴۲۰-۲) له قران مجید څخه مقصود په اصل کي لفظ دی اوکه معنی؟

جواب: دقران په قراءت کي مقصود اصلي دواړه دي لفظ هم معنی هم، اوقران نوم دی دهغه کلام او خاص عبارت چي په مصاحفوکي ليکل سوی دی اوپه عربي ژبه کي راغلي دی: قال الله تعالی: انا انزلناه قرانا عربيا لعلکم تعقلون (۱) نو چي نظم عربي نه دی هغه قران نه دی اونه حکم دتلاوت دقران پر هغه باندي صادق راځي، او نه هغه ثواب حاصليدی سي، په حديث شريف کي راغلي دي: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم من قرء حرفاً من کتاب الله فله به حسنة والحسنة بعشر امثالها، لا اقول آلم حرف الف حرف ولام حرف وميم حرف رواه الترمذي وغيره عن ابن مسعود ﷺ (۲) په شامي کي راغلي دي: لان الامام رجع الی قولهما في اشتراط القراءة بالعربية لان المامور به قراءة القران وهو اسم للمنزل باللفظ العربی المنظوم هذا النظم الخاص المکتوب في المصاحف المنقول الينا نقلا متواترا (۳) الخ ددي حاصل دا دی چي امام صاحب او صاحبينو پردي اتفاق کړی چي په لمانځه کي دقران کريم لوست دهم هغه عربي کلماتو سره کيدل ښايي کم چي حقيقة قران دي او په مصاحفو کي ليکل سوي دي الی اخره. حاصل دا چي په لمانځه کي دننه دقران شريف دژباړي او ترجمي په لوستلو سره لمونځ نه کيږي ځکه چي په لمانځه کي لوستل دقران شريف فرض دي او قران نوم دنظم عربي دی ژباړي ته قران نه ويل کيږي، مګر مجازا، کما قال في ردالمحتار والاعجمي انما يسمي قرانا مجازا ولذا يصح نفي اسم القران عنه الخ شامي (۴). فقط

دواجب په اندازه دلوستلو څخه وروسته ورځخه هير سوه او امام درکوع پرځای لمونځ مات کړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۴۲۱-۱) امام لمونځ پيل کړی، او ددري يا څلور اياتونو دلوستلو څخه وروسته ورځخه هير سو نو اوس هغه ته رکوع کول لازم وو، خو هغه لمونځ مات کړی بيا يي دوباره له الحمد څخه پيل کړی، دا څه حکم لري؟

ددوو اياتونو دلوستلو څخه وروسته ورځخه هيرسوه ځکه نوامام په مينځ کي يو آيت پرېښودی اوشاته يې شروع کړی دا څه حکم لري؟ سوال: (۴۲۲-۲) امام لمونځ پيل کړی له دوه

(۱) سورة يوسف: ۱. ظفير

(۲) مشکوة، کتاب فضائل القران، فصل ثاني ص۱۸۲. ظفير

(۳) ردالمحتار، باب صفة الصلوة مطلب في حکم القراءة بالفارسية جلد اول ص۴۵۲، ط.س. ج۱ ص۴۸۵. ظفير

(۴) ايضاً، ط.س. ج۱ ص۴۸۵. ظفير

ایاته لوستلو څخه وروسته ورڅخه هیر سوه نو له څلورم یا پنځم ایت څخه یې پیل وکړی یا یې بل سورت پیل کړی، نو لمونځ وسو اوکه نه؟ او سجده سهوه سته اوکه نه؟

که چیری له دوه ایاته لوستلو وروسته ور څخه هیر سوه نو بل سورت ووایی اوکه نه؟ سوال: (۴۲۳-۳) امام دوه ایاتونه ولوستل اوپه دریم نیم ایت کي ومبنتی نو له څلورم یا پنځم ایت څخه یي پیل وکړی یا یي بل سورت پیل کړی، په دي صورت کي لمونځ کیږي اوکه نه؟ او سجده سهوه سته اوکه نه؟

جواب: (۱) دلمانځه دماتولواړتیانه وه مګرچي دوباره یي دغه لمونځ وکړی نو اداسو ([1]).

(۲) لمونځ صحیح دی او سجده سهوه لازمه نه سوه. ([2])

(۳) په دي صورت کي هم لمونځ وسو او سجده سهوه لازمه نه ده. ([3]) فقط

په ځینو لفظونو کی دوه قرائتونه: **سوال:** (۴۲۴) په قران شریف کي په ځینو ځایو کي واړه حروف لیکل سوي وي مثلا بصطة، هم المصیطرون، علیهم بمصیطر، په دي کي کم یوحرف دوه ځلي ولوستل سي په پنجاب کي یي خلګ دوه ځله وایي ددي څه مطلب دی؟

جواب: د(بصطة) او (هم المصیطرون) او (علیهم بمصیطر) پرسر د (س) له لیکلو څخه مقصد دا دی چي دا لفظ په سین سره لوستل سوی دی او په صاد سره هم یعني تلاوت کوونکی که سین وایي اوکه صاد، لمونځ صحیح دی، او دامطلب نه دی چي داسي کلمات دي دوه ځله وایي بلکه دکم قاري اتباع چي وکړي دهغه موافق دي وایي، قوله: المصیطرون وفي قراءة لابن کثیر بالسین بدل الصاد المتسلطون الجبارون الخ کمالین، لست علیهم بمصیطر وفي قراءة بالصاد بدل السین اي بمسلط ([4]) وفي القاموس البصط البسط في جمیع معانیه. فقط

په قراءت کی دترتیل رعایت اړین دی اوکه نه؟ سوال: (۴۲۵) انا نشاهد کثیرا من الحفاظ

([1]) وضم اقصر سورة کالکوثر او ماقام مقامها وهو ثلاث ایات قصار نحو (ثم نظر ثم عبس وبسر ثم ادبر واستکبر) وکذا لو کانت الایة او الایتان تعدل ثلاثا قصار (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة جلد اول ص۴۲۷، ط.س. ج۱ ص۴۵۸). ظفیر

([2]) یکره ان یفتح من ساعته کما یکره للامام ان یلجئه الیه بل ینتقل الی ایة اخری لا یلزم من وصله ما یفسد الصلوة (رد المحتار، باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ص۵۸۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۲۲) ولو قرء ایة تعدل اقصر سورة جاز الخ وقدرها من حیث الکلمات عشر ومن حیث الحروف ثلاثون (ایضا فصل في القراءة ص۵۰۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۳۸). ظفیر

([3]) ایضًا، ط.س. ج۱ ص۵۳۸. ظفیر

([4]) جلالین اصح المطابع سورة غاشیه ص۴۹۸. ظفیر

انهم يقرءون القران المجيد بالتعجيل في صلوة وغيرها كوقت الحفظ بحيث لا يفهم ما يتلفظون به من الاعراب والالفاظ وغيرها والحال ان القران ناطق على ترتيله ورتل القران ترتيلا، فهل يجوز لهم القراءة على سبيل التعجيل ام لا؟

الجوب: قال في الدر المختار: ويجتنب المنكرات هذرمة القراءة وفي الشامي هذرمة الخ سرعة الكلام والقراءة [۱] الخ فعلم ان القراءة بالكيفية المذكوره من ترك الترتيل المامور به والاستعجال المفضي الى الهذرمة من المنكرات التي ينبغي الاجتناب عنها.

<u>په هر ركعت كې دسورت سره سورت اخلاص لوستل څنګه دي؟</u> سوال: (۴۲۲) يو امام په جهري لمانځه كي له الحمد څخه وروسته چي كم سورت ولوستی له هغه سورت سره يي قل هو الله هم ولوستل او ركوع او سجده يي وكړه او په بل ركعت كي له الحمد سره يو بل سورت يوځاى كړى، له هغه څخه وروسته يي بيا قل هو الله ولوستل، دحنفيانو په نزد دا ډول كړنه سمه ده اوكه نه؟

جواب: په فرائضو كي دحنفيانو په نزد داسي كول مكروه دي، دمنيي په شرحه كي راغلي دي: والحاصل ان تكرار السورة الواحدة في ركعة واحدة مكروهة في الفرض ذكره في فتاوی قاضي خان وكذا تكرارها في ركعتين منه بان قرءها في الاولى ثم كررها في الركعة الثانية يكره ذكره في القنيه لكن هذا اذا كان بغير ضرورة بان كان يقدر قراءة اخري اما اذا لم يقدر فلا يكره الخ ولا يكره تكرار السورة في ركعة اولي ركعتين في التطوع [۲] الخ، نوځرګنده سوه چي په فرائضو كي داسي كول مكروهه دي اوپه نوافلو كي جايز دي. فقط

<u>چي په اول ركعت كې يوه ركوع ولولي، اوپه دويم ركعت كې يو سورت پوره ولولي داڅه حكم لري؟</u> سوال: (۴۲۷) كم خلګ چي په اول ركعت كي ركوع اوپه دويم ركعت كي سورت چي دركوع څخه لوی نه وي لولي، داجايز دی كه مكروه؟

جواب: كراهت په دي كي هيڅ نسته [۳] البته فضيلت په دي كي دی چي په دواړو ركعتونو كي پوره پوره سورت ولوستل سي. كذا في الشامي. فقط

<u>چي په اول ركعت كي ديو سورت يوه حصه اوپه دويم كی دبل سورت حصه وواييي نو صحيح</u>

(۱) رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح جلد اول ص۲۲۳، ط.س. ج۲ ص۴۷. ظفير

(۲) غنية المستملي. ظفير

(۳) وكذا لو قرأ في الاولى من وسط سورة او من سورة اولها ثم قرأ في الثانية من وسط سورة اخرى الخ اوسورة قصيرة الاصح انه لا يكره (ردالمحتار فصل في القراءة جلد اول ص۵۱۰، ط.س. ج۱ ص۵۴۲). ظفير

ده اوکه نه؟ سوال: (۴۲۸) که چيري امام په اول رکعت کي ديوه سورت اوله رکوع اوپه دويم رکعت کي دويمه رکوع ووايي نو جايز دی اوکه نه؟

جواب: لمونځ صحيح دی. (۱) فقط

دوترو په رکعت کی يې دلويو او کوچنيو سورتونو قراءت وکړي نووسو اوکه نه؟ سوال: (۴۲۹) په وترو کي امام صاحب په اول رکعت کي والعصر په دويم کي التکاثر، په دريم کي الهمزه ولوستی، دريم صورت ددويم څخه دوچنده دی نو وتر لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: وتر لمونځ وسو ددومره سورتونو په لوی اوکوچني کيدلو سره په لمانځه کي هيڅ کراهت نه راځي. (۲) فقط

په مينځ کي کوچنی سورت پرېښوول نه دي پکار: **سوال**: (۴۳۰) ويل کيږي چي داذا جاء څخه وروسته تبت لوستل په کار دي ددې په ترك کولو سره دي قل هو الله نه وايي که څه هم دلوستونکي داذا جاء اوقل هو الله سره محبت وی، نوڅه کول په کار دي؟

جواب: ديو کوچني سورت فاصله کول په فرائضو او واجباتو کي فقهاوو مکروه ليکلي دي، نو که چيري قل هو الله په دويم رکعت کي لوستل غواړي، نو په اول کي دي قل يا ايها الکفرون ووايي، اوکه چيري په اول رکعت کي يې اذا جاء لوستي وي نو په دوهم کي دي قل اعوذ برب الفلق ووايي (۳). فقط

په لمانځه کي دسورت دترتيب لحاظ: **سوال**: (۴۳۱) دقران دسورتونو دترتيب په لمانځه کي څه حکم دی؟ مثلا له قل اعوذ برب الفلق څخه وروسته قل هو الله لوستلای سي اوکه نه؟

---

(۱) مع انهم صرحوا بان الافضل في كل ركعة الفاتحة وسورة تامة (ردالمحتار فصل في القراءة ص**۵۰۵** ج۱، ط.س. ج۱ ص**۵۴۱**). ظفير

(۲) واطالة الثانية على الاولى يكره تنزيها اجماعا ان بثلاث ايات ان تقاربت طولا وقصرا والا اعتبر الحروف والكلمات واعتبر الحلبي فحش الطول لا عدد الايات واستثنى في البحر ما وردت به السنة واستظهر في النفل عدم الكراهة وان باقل لايكره (درمختار) قوله فحش الطول الخ كما لو قرأ في الاولى والعصر وفي الثانية الهمزة فرمز في القنية اولا انه لايكره ثم رمز ثانيا انه يكره وقال لان الاولى ثلاث ايات والثانية تسع وتكره الزيادة الكثيرة الخ (ردالمحتار فصل في القراءة ج۱ ص**۵۰۲** – **۵۰۷**، ط.س. ج۱ ص**۵۴۲**) له سوال څخه ځرګنده سوه چي دقرآن دترتيب څخه خلاف سورتونه لوستل سوي دي، داهم مکروه دی ددي څخه پرهيز کول په کار دي اوس هسي لمونځ وسو: ويكره الفصل بسورة قصيرة وان يقرء منكوسا (درمختار) لان ترتيب السورة في القراءة من واجبات التلاوة (ردالمحتار فصل في القراءة ص**۵۱۰** ج۱، ط.س. ج۱ ص**۵۴۲**). ظفير

(۳) ويكره الفصل بسورة قصيرة (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراة جلد اول ص**۵۱۰**، ط.س. ج۱ ص**۵۴۲**. ظفير

جواب: په فرائضو او واجباتو کي (فقهاوو) دا تقديم او تاخير مكروه ليكلى دى، او په نوافلو كي صحيح دى ([1]). فقط

دوخت دتنګی والي په وخت کی دسهار په لمانځه کی کوچني سورتونه ويل صحت لري:

سوال: (۴۳۲) دسهار په لمانځه کي وخت لږ وو ځکه يي په اول رکعت کي سورة کافرون اوپه دويم رکعت کي يي سورت اخلاص ولوستی له لمانځه ځخه وروسته يو صاحب دا وفرمايل چي لمونځ مکروه تحريمي سو، لوی سورت لوستل په کار وو؟

جواب: دغه لمونځ پرته له کراهت څخه صحيح سو، دچا دا ويل چي دا لمونځ مکروه تحريمي سو غلط دي، يو ځل نبي ﷺ دسهار په لمانځه کي قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس لوستي دي، نوځرګنده سوه چي کله وخت لږ وي يا سفر او داسي نوره تلواري وي نو دسهار په لمانځه کي کوچني سورتونه لوستل صحيح دي. ([2]) فقط

په اول رکعت کی يې دمزمل سورت يوه حصه اوپه دويم کی يی دبقری سورت يوه حصه ولوسته نو لمونځ وسو اوکه نه؟ **سوال**: (۴۳۳) امام دمانښام په اول رکعت کي دالحمد شريف څخه وروسته دسورة مزمل اولنۍ رکوع ولوسته په دويم رکعت کي يي دآلم اولنۍ رکوع ولوسته او سجده سهوه يي هم ونکړه ايا لمونځ صحيح سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي لمونځ صحيح سو او سجده سهوه لازمه نه سوه خو په راتلونکي کي دغه ډول دترتيب قراني خلاف لوستل نه ښايي، ځکه چي دغه ډول لوستل په فرائضو کي مکروه دي، کذا في الدرالمختار. ([3]) فقط

په لمانځه کي دايت په تکرار سره لمونځ نه فاسديږي: **سوال**: (۴۳۴) زيد دمانښام جمع ورکوي په اول رکعت کي يې له سورة فاتحي څخه وروسته سورة فيل پيل کړی او (طيرا ابابيل) يي دوه ځله ولوستی اول ځل يي دلام په سکون سره او دويم ځل يي دلام په زور سره ووايه او رکوع يي وکړه او په دريم رکعت کي يې دسورة فاتحي دختمولو څخه وروسته سورة قريش پيل کړی او پوره سورت يي ولوستی آيا لمونځ وسو اوکه نه او که

([1]) ويكره الفصل بسورة قصيرة وان يقرأ منكوسا الخ ولا يكره في النفل شيء (درمختار) بان يقرء في الثانية سورة اعلى مما قرء في الاولى لان ترتيب السورة في القراءة من واجبات التلاوة (ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۱۰ ج۱). ظفير

([2]) فيسن في السفر مطلقا اي حالة قرار او فرار الخ الفاتحة وجوبا واي سورة شاء وفي الضرورة بقدر الحال (درمختار) اي سواء كان في الحضر او السفر الخ لانه عليه الصلوة والسلام قرأ في الفجر بالمعوذتين الخ (ردالمحتار فصل في القرآءة ص۵۰۳ – ۵۰۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص). ظفير

([3]) ويكره الفصل بسورة قصيرة وان يقرأ منكوسا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل القراءة ص۵۱۰ ج۱). ظ

دسهوي سجده كول په كار وه؟

جواب: په دي صورت كي لمونځ صحيح سو دسجده سهوي او راګرځولو اړتيا نسته ([1]).

په فرضو کی دنبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه دسورت جزء لوستل صراحة ثابت نه دي:

سوال: (**۴۳۵**) په فرض لمانځه كي نبي كريم صلى الله عليه وسلم په يوه وخت كي پرته له پوره سورتونو څخه ركوع ګاني لوستي دي اوكه نه؟

جواب: دفقهي په كتابونو كي يي دا ليكلي دي چي په هر يوه ركعت كي پوره سورت لوستل مستحب او سنت دي، نبي كريم صلى الله عليه وسلم اكثره پوره سورت لوستی دی او شايد چي كله يي علاوه دسورت څخه يوه ركوع هم لوستي وي خو تصريح يي نسته ([2]). فقط

دفاتحی په سکتو کي ثناء لوستل نه دي په کار: **سوال**: (**۴۳۶**) دفاتحي په سكتاتو كي ثناء لوستل غوره دي اوكه سكوت بهتر دی؟

جواب: دقراءت دپيل كيدلو څخه وروسته ثناء لوستل نه دي په كار. ([3]) فقط

فاتحه خلف الامام: **سوال**: (**۴۳۷**) شاه رفيع الدين صاحب دهلوي (قدس سره) ليكلي دي، چي په امام پسي سورة فاتحه لوستل جايز دي، اوپه لوستلو كي هيڅ ستونزه نسته، په نه لوستلو كي يي بيره دلمانځه دنه كيدلو ده په دي مسئله كي څه حكم دی؟

جواب: كله چي په حديث شريف كي صفا حكم دی: و اذا قرء فانصتوا ([4]) او په بل حديث شريف كي راغلي دي: من كان له امام فقراءة الامام له قراءة ([5]) اوهمدا ډول په قران

([1]) وقرأ بعدها وجوبا سورة اوثلاث ايات ولو كانت الاية او الايتان تعدل ثلاث ايات قصار (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ص۴۵۹ ج۱) اذا كرر آية واحدة مرارا ان كان في التطوع الذي يصليه وحده فذلك غير مكروه وان كان في الفريضة فهو مكروه وهذا في حالة الاختيار اما في حالة العذر والنسيان فلابأس به (غنية المستملي ص۴۲۲). ظفير

([2]) مع انهم صرحوا بان الافضل في كل ركعة الفاتحة وسورة تامة (ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۰۵ ج۱) وان الغالب من قراءته ﷺ السورة التامة بل نال بعضهم لم ينقل عنه ﷺ قراءة السورة الكاملة ولم ينقل عنه التفريق الا في المغرب قرأ فيها الاعراف في ركعتين وركعتي الفجر وقرء بايتي البقرة وال عمران وقال اخرون انما هي افضل الخ وافتى بعض ائمتنا بان من قرأ سورة في ركعتين ان فرقها عذرا كمرض حصل له ثواب السورة الكاملة والكلام في سورة طويلة كالاعراف بخلاف سورة ثلاث ايات او اربع فتفريقها خلاف السنة اهـ (مرقات المفاتيح شرح مشكوة المصابيح باب القراءة في الصلوة فصل اول ص۵۲۷ - ۵۲۸ ج۱). ظفير

([3]) وقرء كما كبر سبحانك اللهم الخ الا اذا شرع الامام في القراءة سواء كان مسبوقا او مدركا وسواء كان امامه يجهر بالقراءة او لا. فانه لاياتي به لما في النهر عن الصغيري ادرك الامام في القيام يثنى ما لم يبدأ بالقراءة الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل تاليف الصلوة ج۱ ص۴۵۵ - ۴۵۶، ط.س. ج۱ ص۴۸۸). ظ

([4]) مشكوة باب القراءة في الصلوة ص۸۱. ظفير =

شريف كي ارشاد دى: واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا، ([1]) په دي صورت كي مقتدي ته په امام پسي دفاتحي او داسي نورو دلوستلو گنجايش نسته څرنگه چي دفقهي په كتابونو كي په تفصيل سره ذكر دي، او حنفيانو ته دخپل امام په مذهب باندي عمل كول په كاردي. فقط

چي په اول ركعت كي اذا جاء اوپه دويم كي يي قل هو الله ولوسته نو نقصان وسو اوكه نه؟

سوال: (۴۳۸) امام په اول ركعت كي اذا جاء اوپه دويم ركعت كي يي قل هو الله ولوستل نوپه لمانځه كي څه نقصان وسو اوكه نه؟

جواب: په فرضو كي قصدا دا ډول لوستل چي ديوه كوچني سورت فاصله وكړل سي لكه څنگه چي په پوښتل سوي صورت كي دي مكروه دي او لمونځ كيږي اوكه چيري سهواً وسوه نو هيڅ كراهت نسته او په نوافلو كي هيڅ كراهت نسته. ([2]) فقط

قراءت پرته دشونډانو دښورولو څخه معتبر نه دي: **سوال:** (۴۳۹) كه چيري څوك لمونځ پرته له ښورولو دشونډانو څخه په زړه كي وايي نو لمونځ يې كيږي اوكه نه؟

جواب: قراءت او داسي نور داسي ويل معتبر نه دي. ([3]) فقط

دنيم ايت څخه دقراءت شروع كول صحيح نه دي: **سوال:** (۴۴۰) زيد هميشه په لمانځه كي قراءت دنيم ايات څخه پيل كوي لمونځ يې كيږي اوكه نه؟

جواب: لمونځ يي كيږي مگر داسي كول نه ښايي، ځكه چي نا مشروع او دقواعدو سره سمون نه خوړونكى كار دى. ([4]) فقط

---

(۵) آثار السنن باب في ترك القراءة خلف الامام في الصلوة جلد اول ص۸۷. ظفير

([1]) سورة الأعراف ركوع ۲۴. ظفير

([2]) ويكره الفصل بسورة قصيرة الخ ولا يكره في النفل شيء من ذلك (درمختار) افاد ان التنكيس او الفصل بالقصيرة انما يكره اذا كان عن قصد فلو سهوا فلا كما في شرح المنية (ردالمحتار فصل في القراءة ج۱ ص۵۱۰، ط.س. ج۱ ص۵۴۶)، ظفير

([3]) وادني الجهر اسماع غيره وادني المخافة اسماع نفسه الخ ويجري حالة المذكور في كل ما يتعلق بنطق كتسمية على ذبيحة وجوب سجدة تلاوة وعتاق وطلاق واستثناء وغيرها (درمختار) اعلم انهم اختلفوا في حدود وجود القراءة على ثلاثة اقوال فشرط الهندواني والفضلي لوجوده خروج صوت يصل الى اذنه وبه قال الشافعي وشرط بشر المريسيى وأحمد خروج الصوت من الفم وان لم يصلي الى اذنه الخ ولم يشترط الكرخي وابوبكر البلخي السماع واكتفيا بتصحيح الحروف اهـ (ردالمحتار فصل في القراءة ج۱ ص۴۹۸ – ۴۹۹، ط.س. ج۱ ص۵۳۵). ظفير

([4]) والافضل ان يقرء في كل ركعه سورة تامة (غنية المستملي ص۴۲۲) دسورت څه حصه ځينو فقهاؤ مكروه ليكلي ده نو ايت نيمگړى لوستل به كله مناسب وي: ولو قرء بعض السورة في ركعتها وباقيها في ركعة قيل يكره والصحيح انه لا يكره (ايضا). ظفير

په الحمد او اياک باندي جټکه؟ **سوال:** (۴۴۱) پرالحمد باندي جټکه کول او دا ډول پراياك باندي جټکه کول څنګه دي؟

جواب: دتجويد له قواعدو څخه خلاف دقران شريف لوستل مکروه دي، که څه هم لمونځ کيږي. فقط

دري اياتونه لوستل فرض دي که واجب؟ **سوال:** (۴۴۲) دقران شريف دري اياتونه چي په لمانځه کي لوستل کيږي دا فرض دي که څه دي؟

جواب: په درمختار کي يي دلمانځه واجبات شمارلي دي قراءت فاتحه او ضم دسورت يا دري اياتونه: وضم اقصر سورة کالکوثر او قام مقامها وهو ثلاث ايات قصار الخ وکذا لو کانت الاية او الايتين تعدل ثلاثا قصارا ([1]) الخ. ظفير

چي په اول رکعت کي داوه ويشتمي پاري څخه اوپه دويم کي داولي څخه يوه رکوع ووايي نوڅه حکم دي؟ **سوال:** (۴۴۳) دجمعي په لمانځه کي په اول رکعت کي داوه ويشتمي پارې څخه يوه رکوع ولوستل سوه او په دويم رکعت کي يي داولي پاري څخه يوه رکوع ولوستله نو لمونځ صحيح سو اوکه نه؟

جواب: دا ډول لوستل په فرضو کي مکروه دي ځکه چي دا له قراني ترتيب څخه خلاف دي په درمختار کي راغلي دي: ويکره الفصل بسورة قصيرة وان يقرء منکوسا، درمختار، بان يقرء في الثانية سورة اعلى مما قرء في الاولى لان ترتيب السور من القران من واجبات التلاوة ([2]) الخ، شامي ص۳۲۷ جلد اول. فقط

له بسم الله پرته په لمانځه کي فاتحه: **سوال:** (۴۴۴) په لمانځه کي سورة فاتحه پرته له بسم الله الرحمن الرحيم څخه لوستل صحت لري اوکه نه؟ او په داسي کولو سره لمونځ کيږي اوکه نه؟

جواب: لمونځ کيږي اوهيڅ نقص نه پکښي راځي. ([3]) فقط

کم سورت چي يي په اول رکعت کي ولوستي په هيره سره يي په دويم رکعت کي هم هغه ولوستي څه حکم دي؟ **سوال:** (۱-۴۴۵) يوه سړي هغه سورت چي په اول رکعت کي يي

([1]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار، باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة ص۴۲۷ ج۱، ط. س. ج۱ ص۴۵۹. ظفير

([2]) ردالمحتار للشامي، باب صفة الصلوة، فصل في القراءة ص۵۱۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۲. ظفير

([3]) وسننها ترك السنة لا يوجب فسادا ولا سهوا بل اساءة لوعامدا الخ. الثناء والتعوذ والتسميه والتامين (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب سنن الصلوة ص۴۴۲ – ۴۴۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۷۳ – ۴۷۴). ظفير

لوستلی وو سهوا یي په دويم ركعت كي هم هغه سورت ولوستی ايا په دي سره په لمانځه كي څه خرابي راځي؟

سوال: (۴۴۶-۲) يوه سړي په اول ركعت كي سورة الناس پيل كړی، دنيم سورت لوستلو څخه وروسته يي ركوع وكړه او نيم سورت يي په دويم ركعت كم ولوستی ايا لمونځ وسوكه نه؟

جواب: (۱) په دي سره په لمانځه كي هيڅ نقصان نه راځي. ([1])

(۲) لمونځ وسو. ([2]) فقط

<u>دفرائضو په هر رکعت کی سورت اخلاص تکرارول نه ښايي</u>: **سوال**: (۴۴۷) دامرتسر په شاوخوا سيمه كي دكليو اوسيدونكي حضرات په اول ركعت كي له سورة فاتحي څخه وروسته سورة اخلاص وايي او په دويم ركعت كي هم سورة اخلاص وايي، ايا داسي كول په كار دي كه نه؟ كه چيري يوڅوك زميندار نه پوهيږي نو دهغه لپاره جايز دی اوكه نه؟

جواب: سنت طريقه داده چي يو سورت بيا بيا په اول او دويم ركعت كي ونه ويل سي، بلكه مختلف سورتونه په هر ركعت كي دترتيب په رعايت سره ويل ښايي، همدارنګه كله يو سورت كله بل سورت لوستل په كار دي، داسي نه چي په دواړو ركعتو كي قل هو الله ولوستل سي، دا طريقه دغير مقلدو ده چي په هر ركعت كي يوازي يو سورة اخلاص مكرر لولي ([3]) البته چاته چي بل يو سورت ياد نه وي دهغه مجبوري ده نو تاسو چي حنفيان ياست دسنت طريقي موافق قراءت واياست، په هر يوه ركعت كي دسورة فاتحي څخه وروسته مختلف سورتونه دترتيب موافق واياست نبي كريم ﷺ هميشه مختلف سورتونه په لمانځه كي لوستـــــلي دي ، داسي يي نه دي كړي چي يوازي سورة

([1]) لاباس ان يقرء سورة ويعيدها في الثانية (درمختار) افاد انه يكره تنزيها وعليه يحمل جزم القنية بالكراهة ويحمله فعله عليه الصلوة والسلام لذلك على بيان الجواز هذا اذا لم يضطر فان اضطر بان قرء في الأولى قل اعوذ برب الناس اعدها في الثانية ان لم يختم (ردالمحتار فصل في القراءة جلد اول ص۵۱۰، ط.س. ج۱ ص۵۴۲). ظفير

([2]) ولو قرء بعض السورة في ركعة وباقيها في ركعة قيل يكره والصحيح انه لايكره (غنية الستملي تتمات ص۴۲۲). ظفير

([3]) ولا يتعين شيء من القران لصلوة على طريق الفرضية الخ ويكره التعين (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۴) لاباس ان يقرء سورة ويعيدها في الثانية (درمختار) قوله لاباس الخ افاد ان يكره تنزيها وعليه يحمل جزم القنية بالكراهة ويحمل فعله عليه الصلوة والسلام لذلك على بيان الجواز هذا اذا لم يضطر (ردالمحتار باب ايضا ج۱ ص۵۱۰). ظفير

اخلاص یي په هر یوه رکعت کي لوستلی وي. فقط

پر رب العالمین باندي ساه اخیستل: **سوال**: (۴۴۸-۱) امام پررب العالمین باندي وقف کوي په لمانځه کي خوځه ستونزه نه راځي؟

دفعال پر عین باندي جزم لوستل: **سوال**: (۴۴۹-۲) امام په (فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ) کي پرعين باندي جزم کوي لمونځ صحیح دی که نه؟

په یوم یقوم الروح والملائکة صفا باندي وقف: **سوال**: (۴۵۰-۳) په دي ایات کریمه (یوم یقوم الروح والملائکة صفا) باندي که چیري امام وقف وکړي نو لمونځ صحیح دی او که نه؟

پر ایت (لا) لرونکي باندي وقف: **سوال**: (۴۵۱-۴) پر ایت (لا) لرونکي باندي په وقف کولو سره څه ستونزه سته اوکه نه؟

جواب: (۱) هیڅ کراهت او داسي نور څه نسته.

(۲) دفعال په عین کي ادغام دی یعني په دي کي دوه عینونه دي اول ساکن دی دویم متحرك گویا اصل ددي دا دی: فَعْ عَالٌ، نوکه چیري همداسي یي لوستی وي نو صحیح دی.

(۳) لمونځ صحیح دی او پر (صفا) باندي په وقف کولو سره په لمانځه کي څه خلل نه راځي.

(۴) پر ایت (لا) لرونکي باندي په وقف کولو کي څه تکلیف نسته او لمونځ صحیح دی. فقط

دسهار په لمانځه کی طوال مفصل: **سوال**: (۴۵۲-۱) فقهاء دسهار په لمانځه کي طوال مفصل لوستل او څلویښت ایاتونه لوستلو ته مسنون وایي، او ځیني سورتونه دطوال مفصل شل ایاتونه دي ددوو سورتونو په لوستلو سره به څلویښت ایاتونه پوره سي، څه کول په کار دي؟

دسجدی ایتونه پرېښودل: **سوال**: (۴۵۳-۲) دسجدي والا په سورت کي دسجدي په وجي سره یو دوه ایاتونه پریښودل څنګه دي؟

جواب: (۱) غوره دا ده چي په هر یوه رکعت کي پوره سورت ووایي نو دسهار دلمانځه په هر یوه رکعت کي دي پوره سورت طوال مفصل وایي سنت به ادا سي دایاتونو لحاظ دي نه کوي برابره خبره ده که څلویښت وي او که لږ اوکه ډیر. (۱)

---

(۱) ویسن في الحضر لامام ومنفرد الخ طوال المفصل من الحجرات الی آخر البروج في الفجر والظهر الخ اي =

(۲) د سجدي ايت لوستل او سجده کول غوره دي هغه دي نه پريږدي. ([1]) فقط

دکوچني سورت اندازه څومره ده او هغه کم کم دي؟ **سوال:** (۴۵۴) هغه کوچني سورتونه کم دي چي داول رکعت او دويم رکعت دقراءة په مينځ کي په پريښودلو سره لمونځ مکروه کيږي؟

جواب: هغه سورتونه دقصار مفصل يعني له لم يکن څخه دقران شريف تراخره پوري دي. ([2]). فقط

دايات نښانه: **سوال:** (۴۵۵) دقران مجيد کوچني دري اياتونه چي ديوه لوی ايات په اندازه وي دګول دائري برخي ګڼل کيږي اوکه په ج، ص، ز، ط، او داسي نورو باندي ګڼل کيږي، بل داچي ديوه لوی ايت په مقابله کي کوچني دري اياتونه کافي کيدای سي که څنګه؟

جواب: دلمانځه له واجباتو څخه دا هم ده چي له سورت فاتحي څخه وروسته دري کوچني اياتونه يا يو لوی ايت چي ددريو وړو اياتونو برابر وي وواييي کوچني سورت چي دري اياتونه لري هغه سورت الکوثر دی، ددي سورت يا ددي په ډول دبل يوه سورت دالْحَمْدُ څخه وروسته په لوستلو سره واجب ادا کيږي او ايت هم هغه ګڼل کيږي پرکم باندي چي ګول نښانه په دي شکل O يا دا ډول ۝ وي او دلوی ايت مثال ايات الکرسي يا ايت المداينه او داسي نور دي، او دکوچني اياتونو مثال (ثم نظر * ثم عبس وبسر * ثم ادبر واستکبر) دي. ([3]) فقط

چي پرنستعين باندي وقف ونه کړي نو څه وکړي؟ **سوال:** (۴۵۶) زيد په لمانځه کي په اياك نعبد واياك نستعين باندي دوقف له کيدلو سره سره وقف نه کوي او داسي وايي نستعين اهدنا الصراط المستقيم او قل هو الله احد نِ الله الصمد وايي، په دي سره په

= في کل رکعة سورة مما ذکر (ردالمحتار) اي من الطوال والاوساط والقصار ومقتضاه انه لانظر الی مقدارمعين من حيث عدد الايات الخ (ردالمحتار فصل في القراءة جلد اول ص۵۰۵، ط.س. ج۱ ص۵۳۹ - ۵۴۰). ظفير

([1]) کره ترك اية سجدة وقراءة باقي السورة لان فيه قطع نظم القران وتغير تاليفه واتباع النظم والتاليف مامور به. بدائع ومفاده ان الکراهة تحريمية لايکره عکسه (الدر المختار علي هامش ردالمحتار باب سجود الصلوة جلد اول ص۷۲۹، ط.س. ج۲ ص۱۱۷ - ۱۱۸). ظفير

([2]) ومنها الی اخر لم يکن اوساطه الخ وباقيه قصاره (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة جلد اول ص۵۰۴ ، ط.س. ج۱ ص۵۴۰). ظفير

([3]) وضم اقصر سورة کالکوثر او ماقام مقامها وهو ثلاث آيات قصار نحو: ثم نظر * ثم عبس وبسر * ثم ادبر واستکبر الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة واجبات الصلوة ص۴۲۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۵۸). ظفير

لمانځه کي خوځه نقصان نه راځي؟ او له قراوو څخه دا ثابت دی اوکه نه؟ او په داسي لوستلو سره په معنی کي څه نقصان راځي او که نه؟

جواب: اصل دا دی چي پرنستعین باندي وقف کول او نه کول دواړه جایز دي، همدا ډول په قل هو الله احد باندي وقف کول نه کول دواړه ثابت دي، نوکه چیري وقف وکړي نو (إهدنا) او (الله الصمد) به لوستل کیږي اوکه چیري وقف ونه کړي نو (نِ) اهدنا او (نِ) الله الصمد به لوستل کیږي په معنا کي هیڅ فرق نه راځي او قاریان یي په دواړه ډوله لولي، مګر زیاتره پر نستعین اوپر احد باندي وقف کول دي او اهدنا الصراط المستقیم او الله الصمد جلا لوستل ثابت دي، په دي خاطر زید ته هیڅ اړتیا نسته چي هغه (نِ) اهدنا او (نِ) الله الصمد لولي بلکه څرنګه چي اکثر قاریان لوستل کوي، هم هغه ډول دي لولي مګر که چیري اتفاقي زید دغه ډول ولوستی نو پرهغه دي اعتراض نه کوي هغه ته دي غلط نه وایي.

دلمانځه په رکعتونو کی چی دبیلا بیلو سورتونو رکوع ګانی وایی نوهیڅ بدوالی نسته؟

سوال: (۴۵۷) که چیري امام دا ډول قراءت وایي چي هغه ته دهري پاري یوه یوه رکوع یاده وي اوپه هر لمانځه کي یوه یوه رکوع وایي دا ډول بالترتیب ټولي ختمي کړي بیا دختمولو څخه وروسته له ابتداء څخه پیل کوي، دا ډول لمونځ جایز دی که نه؟

جواب: په دا ډول لوستلو سره لمونځ کیږي مګر غوره داده چي په هر یوه رکعت کي پوره سورت ووایي په دې طریقي سره چي څرنګه فقهاوو لیکلي دي چي دسهار او ماپښین په لمانځه کي طوال مفصل او په مازدیګر او ماخستن کي اوساط مفصل او په ماښام کي دي دقصار مفصل څخه یو سورت وایي. ([1]) فقط

دفاتحه خلف الامام په هکله دوارد حدیث جواب: **سوال**: (۴۵۸) دحنفیانو په نزد دفاتحي قراءة خلف الامام ناجایز دی، خو غیر مقلدین دوه حدیثونه وړاندي کوي یو دعباده رضی الله عنه حدیث او یو دابوهریره رضی الله عنه چي پکښي دا ذکر دي قسمت الصلوة بیني وبین عبدي ددي دواړو حدیثونو جواب مفصل تحریر وفرمایاست!

جواب: دعباده رضی الله عنه دحدیث جواب په مشکوة باب قراءة في الصلوة کي دذکر سوي حدیث څخه وروسته موجود دی هغه حدیث دا دی وعن ابي هریره رضی الله عنه

([1]) واستحسنوا في الحضر طوال المفصل في الفجر والظهر واوساطه فی االعصر والعشاء وقصاره في المغرب الخ الافضل ان یقراء في کل رکعة الفاتحة وسورة کاملة في المکتوبة الخ (عالمګیري مصري الفصل الرابع في القراءة ج۱ ص۷۲ – ۷۳، ط. ماجدیة ج۱ ص۷۷). ظفیر

قال قال رسول الله ﷺ انما جعل الامام ليوتم به فاذا كبر فكبروا واذا قراء فانصتوا (۱) په دي حديث كي يي مطلقا او عموما داحكم فرمايلى دى چي كله امام لوستل كوي نوتاسو چپ اوسئ، نو څرګنده سوه چي مخكي نبى كريم صلى الله عليه وسلم يوازي دسورة فاتحي اجازت وركړى وو بيا يې په جهري لمونځونوكي ددي ممانعت وفرمايى لكه څرنګه چي دحديث دابوهريره رضى الله عنه: فانتهي الناس عن القراءة مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فيما جهر فيه بالقراءة من الصلوة حين سمعوا ذلك من رسول الله صلى الله عليه وسلم (۲) څخه ثابت دي بيا نبي كريم صلى الله عليه وسلم د: واذا قرء فانصتوا دحكم په فرمايلو سره په ټولو لمونځونوكي مطلقا دسورة فاتحي او داسي نورو له قراءت څخه ممانعت وفرمايى او دانصات حكم يي وفرمايى لكه څرنګه چي له ايت كريمه: واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا (۳) څخه هم ظاهره ده او همدا جواب داقرأ بها في نفسك (۴) دجملي هم دى چي په حديث دابوهريره رضي الله عنه قسمت الصلوة بيني وبين عبدي الخ كي واقع دي او له اقراء بها في نفسك څخه مراد په نفس كي تصور كول هم كيداى سي. فقط

په سورت فاتحي سره فرض قراءت ادا كيږي: **سوال**: (۴۵۹) دسورة فاتحي په لمانځه كي په لوستلو سره فرض قراءت ادا كيږي كه نه؟

جواب: فرض قراءت دسورة فاتحي په لوستلو سره ادا سو. (۵)

واحده صيغه جمع او جمع واحده لوستل غلط دي: **سوال**: (۴۲۰) په لمانځه كي په وخت دقراءة واحد په صيغه دجمعي او جمع په صيغه دواحد لوستل جايز دي اوكه نه؟ لمونځ به وسي اوكه نه؟ مثلا ايت په ايات لوستل او جنت په جنات لوستل؟

جواب: واحده په صيغه دجمعي لوستل يا جمعه په صيغه دواحدي لوستل غلطي ده، عمدا داسي كول صحيح نه دي، اوكه چيري په غلطۍ سره داسي ولوستل سي نو لمونځ صحيح دى يعني لمونځ كيږي خو داسي كول نه دي په كار. (۶) فقط

---

(۱) مشكوة باب القراءة فصل ثاني ص۸۱. ظفير

(۲) مشكوة باب القراءة في الصلوة، فصل ثاني ص۸۱. ظفير

(۳) سورة الاعراف ركوع ۲۴. ظفير

(۴) مشكوة باب القراءة في الصلوة، فصل اول ص۷۸. ظفير

(۵) وفرض القراءة اية على المذهب هي لغة العلامة وعرفا طائفة من القران مترجمة اقلها ستة احرف ولو تقديرا كلم يلد (درمختار) قوله على المذهب اي الذي هوظاهر الرواية عن الامام (ردالمحتار فصل في القراءة جلد اول ص۵۰۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۳۷). ظفير

=

دمنفرد په لمانځه کي قراءت او امامت: سوال: (۴۲۱) یوازي سړی په جومات یاکور یامیدان کي چي فرض لمونځ کوي نو دقراءة او تکبیر سره لوستل په کار دي اوکه نه؟
جواب: په جهري لمونځونو کي په دي حالت کي قراءت بالجهر لوستل ښه دي او جهر بالتکبر هم صحیح دي خو زیات جهر دي نه کوي په یو څه اندازه جهر کي تکلیف نسته. ([1])

فرض ولي دوه تش او دوه ډک دي؟ سوال: (۴۲۲) په څلورو رکعتو فرضو کي دوه تش او دوه ډك ولي مقرر سوي دي؟
جواب: په فرض لمانځه کي دوه رکعته ډك او دوه رکعته تش داحادیثو څخه ثابت دي او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم همدغه ډول کړي دي په دي خاطر موږ ته همدا ډول کول په کار دي، څنګه او ولي په دي کي مناسب نه دي. ([2])

دسهار په دویم رکعت کی چی قراءت دمخکني څخه اوږد کړي نومکروه دی اوکه نه؟ سوال: (۴۲۳) ددین عالمان او دشرع مبین مفتیان په دي مسئله کي څه فرمایي چي امام دسهار په لمانځه کي له اول رکعت څخه په دویم رکعت کي قراءت قصدا دوه څلور ایاته اوږد کړي په دي صورت کي به پرته له کراهته لمونځ صحیح وي اوکه نه؟
جواب: په دي صورت کي لمونځ صحیح دی بلا کراهته په شامي کي راغلي دي: چي په لویو سورتونو کي ددریو ایاتونو دزیاتوالي اعتبار نسته، البته په کوچنیو سورتونو کي په دوهم رکعت کي ددریو ایاتونو زیاتوالی مکروه تنزیهي دی. ([3]) فقط والله اعلم، کتبه عزیز الرحمن عفی عنه

([2]) قال في البزازية ولو زاد حرفا لايغير المعنى لاتفسد عندهما الخ (ردالمحتار زلة القاري ص۵۹۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۳۷). ظفیر

([1]) ويخير المنفرد في الجهر وهو افضل ويكتفى بادناه ان ادي وفي السرية يخافت حتما على المذهب (درمختار) قوله وهو افضل ليكون الاداء على هيئة الجماعة ولهذا كان اداءه باذان واقامة افضل وروي في الخبر من ان من صلى على هيئة الجماعة صلت بصلاته صفوف الملائكة (ردالمحتار فصل في القراءة ص۴۹۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۳۳). ظفیر

([2]) اقول قد اخرج البخاري ومسلم رحمهما الله عن عبدالله بن ابي قتادة عن ابيه ابي قتادة ﷺ ان النبي صلى الله عليه وسلم كان يقرء في الركعتين الاوليين من الظهر والعصر بفاتحة الكتاب وسورتين وفي اخريين بفاتحة الكتاب ويسمعنا الاية احيانا حاشيه هدايه الخ او په زيلعي کي راغلي دي: وفيما عدا الاوليين اكتفاء بفاتحة الكتاب بقول ابي قتادة انه عليه الصلوة والسلام قرء في الاخيرين بفاتحة الكتاب ص۱۲۲ ج۱. ظفیر

([3]) بل الذي ينبغي ان الزيادة اذا كانت ظاهرة ظهورا تاما تكره والا فلا للزوم الحرج في التحرز عن الخفية ايضا قال والذي تحصل من مجموع كلامه وكلام القنية ان اطلاق كراهة اطالة الثانية بثلاث ايات مقيد بالسور =

له ترتيب څخه په خلاف لوستلوکي كراهت: **سوال**: (۴۲۴) استفتاء نمبر ۲۴۹۵ وصول سوه، تاسو په ۳ نمبركي تحرير فرمايلي دي چي په فرائضو او واجباتو كي يي دا تقديم او تاخير مكروه ليكلى دى، او په نوافلو كي صحيح دى، زما په دي كي څه كلام دى، نن زما دنظر څخه دبخاري شريف يو حديث تير سو چي پكښي يوسف بن مالك راوي دى چي حضور ﷺ حضرت عائشي رضي الله عنها ته وفرمايل چي اي ام المومنين ماته خپل قران شريف وښيه هغوي صلى الله عليه وسلم ته وفرمايل چي ولې؟ ويي ويل ددي لپاره چي دهغه دترتيب موافق خپل قران وكړم، ځكه چي خلګ بي ترتيبه لوستل كوي، حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چي پرتا هيڅ تكليف نسته چي كم ايت غواړي مخكي يي وايه، او ماته ياديږي چي په بخاري شريف كي يوځاى ليكلي دي چي حضرت عمر رضى الله عنه لمونځ وكړى نو په اول ركعت كي يي سورة كهف اوپه دويم ركعت كي يي سورة يوسف ولوستى، له دې څخه ښكنده سوه چي دا تقديم اوتاخير مكروه نه دى؟

جواب: بنده چي كم څه له ترتيب څخه دخلاف ويلو دكراهت په اړوند په فرائضو كي ليكلي وو هغه دحنفيانو مذهب دى او په دي كي احتياط دي پاته دا مطلب ددي نه وو چي په دي كي دڅا خلاف نسته، ممكنه ده چي ځيني نور حضرات به دي ته مكروه نه وايي خو دحنفيانو مذهب هغه دى چي بنده ليكلى دى، چي په درمختاركي ددي تصريح ده. (۱) فقط

په فرض لمانځه كي په تدريج سره پوره قرآن لوستل: **سوال**: (۴۲۵) زيد په فرض لمانځه كي امام سو اوټول قران شريف يي په دري څلورو مياشتو كي ولوستى په اخره پاره كي يي په يوه يوه ركعت كي څو څو سورتونه اوپه اخري ركعت كي يي يو څه اندازه له آلم څخه تر مفلحون پوري ولوستل نو په دي فرض لمانځه كي څه كراهت سته اوكه نه؟

جواب: په دي كي خو څه تكليف نسته چي كه چيري په اول ركعت كي قران شريف ختم كړى مثلا قل اعوذ برب الناس يې ولوستى نو په دويم ركعت كي يې دسورة بقري څخه څه اياتونه ولوستل كما في الشامي عن شرح المنية من يختم القرآن في الصلوة اذا فرغ من المعوذتين في الركعة الاولى يركع ثم يقرء في الثانية بالفاتحة وشيء من سورة البقرة

= القصيرة المتقاربة الايات لظهور الاطالة حينئذ فيها اما السور الطوالة والقصيرة المتفاوتة فلا يعتبر العدد فيها بل يعتبر بظهور الاطالة من حيث الكلمات وان اتحدت ايات السورتين عددا. فقط (والله اعلم ص۵۰۷ ج۱، ط.س. ج۱ ۵۴۳). ظفير

(۱) ويكره الفصل بسورة قصيرة وان يقرء منكوسا الخ ولا يكره في النفل شيء من ذلك (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۱۰ ج۱، ط.س. ج۲ ۵۴۲). ظفير

لان النبي ﷺ قال خير الناس الحال المرتحل اي الخاتم المفتتح [۱] الخ مگر دفرائضو په يوه يوه ركعت كي څو څو سورتونه لوستل ښه نه دي، يعني خلاف اولى دي. [۲] فقط

امام ته دمخصوصو سورتونو حكم: **سوال**: (۴۲۶) امام ته حكم كول چي فلانى فلانى سورت په لمانځه كي وايه او امام ته داسي كول جايز دي اوكه مكروه؟

جواب: كه چيري دسنت موافق صورت امر وكړل سي نو په دي كي څه تكليف نسته. [۳]

دقراءت خلف الامام احاديث او دهغه درجه، او پر عدم قراءت باندي په آيت سره داستدلال ثبوت: **سوال**: (۴۲۷) په امام پسي دلوستلو احاديث چي په صحاح كي اكثر وارد دي دا احاديث منسوخ دي اوكه نه؟ دا هم مفصل وفرماياست چي په اصول حديث كي دكمي مرتبي حديث دصحيح حديث ناسخ جوړيږي او سند ددي خبري چي ايت: واذا قرء القران فاستمعوا له وانصتوا لعلكم ترحمون خاص دلمانځه په باره كي نازل سوى دى سره دمعتبرو احاديثو او اقوال دصحابهٔ كرامو تحرير وفرماياست چي اطمينان مو وسي، غير مقلدين پرته دصحيحينو داحاديثو نور صحاح او مسندات كتابونه دحديث نه مني هر ځاى دصحيحينو حديث طلب كوي، نودا هم تشريح وفرماياست چي پرته دصحيحينو څخه دحديث په نورو كتابونو كي هم صحيح حديثونه موجود دي چي بخاري او مسلم تخريج كړي نه وي او منسوخيت دامين بالجهر دحديث په باره كي هم دغه خيال دى، په كمو احاديثو سره حديث دامين بالجهر منسوخ دى؟

اندکی پیش تو گفتم غم دل ترسیدم   که دل ازرده شوی ورنه سخن بسیار است

جواب: بسم الله الرحمن الرحيم، په قراءت خلف الامام كي دامامانو اختلاف دى، امام اعظم رحمه الله او دهغوي اتباع او موافقين دقراءت خلف الامام په باره كي دعدم وجوب او عدم جواز قائل دي، دليل دامام اعظم رحمه الله ايت قراني دى: واذا قرئ القران فاستمعوا له و انصتوا (پاره: ۹ ركوع) اودصحيح مسلم حديث دى واذا قرأ فانصتوا [۴] او من كان

---

(۱) ردالمحتار فصل في القراءة ص۰ ۵۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۷. ظفير

(۲) ولو جمع بين سورتين في ركعة لاينبغي ان يفعل ولو فعل لاباس به (فتح القدير فصل في القراءة ص۲۹۹ ج۱). ظفير

(۳) وعن جابر قال كان معاذ بن جبل يصلى مع النبي ﷺ ثم ياتي فيؤم قومه فصلى ليلة مع النبي ﷺ العشاء ثم اتي قومه فامهم فافتتح بسورة البقرة فانحرف رجل فسلم ثم صلى وحده وانصرف فقالوا له انافقت يا فلان؟ قال لا والله ولاتين رسول الله صلى الله عليه وسلم انا اصحاب نواضح نعمل بالنهار وان معاذاً صلى معك العشاء ثم اتي قومه فافتتح بسورة البقرة فاقبل رسول الله صلى الله عليه وسلم على معاذ فقال يا معاذ افتّان انت؟ اقرء والشمس وضحها، والضحي، والليل اذا يغشى، وسبح اسم ربك الاعلى متفق عليه (مشكوة باب القراءة ص۷۲). =

له امام الحديث ([1]) دی او په شامي کي له خزائن څخه مسطور دي وفي الكافي ومنع الموتم من القراءة ماثور عن ثمانين نفرا من كبار الصحابة المرتضى والعبادلة وقد دون في الحديث اساميهم ([2]) او دنزول دايت قراني په باره کي راغلي دي: واذا قرئ القران، الآية په فتح القدير کي منقول دي: و اخرج ابو الشيخ من طريق سعيد بن جبير عن ابن عباس رضي الله عنهما هذه الاية نزلت في صلوة الجمعة وفي العيدين قال محي السنة والاولى انها في القراءة في الصلوة لان الاية مكية والجمعة وجبت بالمدينة وهذا قول الحسن والزهري والنخعي واخرج البيهقي عن احمد انه قال اجمع الناس على ان هذه الاية في الصلوة اخرج ابن مردويه في تفسيره الخ عن معاوية بن قرة قال سئلت بعض اشياخنا من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم واحسبه قال عبدالله بن مغفل رضى الله عنه كل من سمع القران وجب له الاستماع والانصات قال انما نزلت هذه الايه في القراءة خلف الامام كذا في فتح القدير ([3]) او امين بالجهر او بالسر دواړه له حديث څخه ثابت دي، امام ابو حنيفه رحمه الله دايت (ادعوا ربكم تضرعا وخفية ([4])، څخه حديث داخفا ته ترجيح ورکړي ده، څنګه چي په شرح منيه کي راغلي دي: ويخفونها اي ويخفي الامام والمقتديون امين لقول ابن مسعود رضى الله عنه اربع يخفيهن الامام التعوذ والتسمية وامين وربنا لك الحمد وهذه الاربعة رواها ابن ابي شيبة عن ابراهيم النخعي وقد روي احمد وابو يعلى والطبراني والدارقطني والحاكم في المستدرك من حديث شعبة عن سلمة بن كهيل عن حجر بن العنبس عن علقمة بن وائل عن ابيه انه صلى مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فلما بلغ غير المغضوب عليهم ولا الضالين قال امين، واخفي بها صوته وقال الشافعي واحمد رحمهما الله يجهر الامام والماموم لما روى ابن ماجة كان عليه الصلوة والسلام اذا تلا غير المغضوب عليهم ولا الضالين قال امين حتى يسمع من في الصف الاول فيرتج المسجد قلنا تعارضا روايتنا الجهر والاخفاء في فعله فيترجح الاخفاء باشارة قوله فان الامام يقولها وبانه الاصل في الدعاء وامين دعاء فان معناه استجب ([5]) انتهي (دصحيحينو څخه علاوه داحاديثو په

([4]) مشكوة باب القراءة في الصلوة فصل اول ص۷۹ وفصل ثاني ص۸۱. ظفير

([1]) آثار السنن باب في ترك القراءة خلف الامام ص۸۷ وفتح القدير فصل في القراءة ص۲۹۸ ج۱. ظفير

([2]) ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل في القراءة ص۵۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۴. ظفير

([3]) فتح القدير فصل في القراءة ص۲۹۸ ج۱. ظفير

([4]) الاعراف ركوع ۸. ظفير

([5]) غنية المستملي معروف به كبيري ص۳۰۲. ظفير

نورو كتابونو كي هم صحيح حديثونه سته، يوازي په صحيحينو كي محصور ګڼل بې غلط دي، نور صحاح يا مسندات نه منل ښكاره جهالت دى. ظفير.

په لمانځه کی دسورتونو رکوع ګانی لوستل څنګه دي؟ سوال: (۴۲۸) ديوه سورت ركوع لوستل په اول ركعت كي او ددغه سورت يا بل سورت ركوع لوستل په دويم ركعت كي، يا بل پوره سورت لوستل په دويم ركعت كي، يا يو سورت په دوو ركعتو كي لوستل جايز دي كه خلاف اولى؟

جواب: اول جواب داى دى چي دا ټول خلاف استحباب دي، دحنفيانو په نزد مسنون او مستحب دا دي چي پوره يو سورت له مفصلو څخه په يوه ركعت كي دفقهاوو له معروف ترتيب سره سم ولولي، هغه ترتيب چي دفقه په كتابونو كي ذكر سوي دي، قال في الشامي لانه السنة في الحضر في كل ركعة سورة تامة (١) كما سيأتي وفيه بعد صفحة مع انهم صرحوا بان الافضل في كل ركعة الفاتحة وسورة تامة (٢) نو جز دسورت لوستل خلاف افضل او خلاف مستحب دي چي ددي مآل كراهت تنزيهي دى، نه كراهت تحريمي (٣). فقط

په قراءت خلف الامام کی حنفي څه وايي او ولي؟ سوال: (۴۲۹) په قراءت خلف الامام كي څنګه قول دى؟

جواب: داحنافو په نزد په امام پسي دفاتحي لوستل جايز نه دي، عن انس قال صلى الله عليه وسلم ثم اقبل بوجهه فقال اتقرؤن والامام يقرأ فسكتوا فسألهم ثلثا فقالوا انا لنفعل قال لا تفعلوا الخ قال على ﷺ من قرأ خلف الامام فليس على الفطرة الخ عن عبدالله بن دينار ﷺ عن عبدالله بن عمر ﷺ قال يكفيك قراءة الامام فهؤلاء جماعة من اصحاب رسول الله ﷺ قد اجمعو على ترك القراءة خلف الامام. (٤) فقط

دښځی په تراويحو کی قرآن په لوړ اواز سره ويل جايز دی اوکه نه؟ سوال: (۴۷۰) حافظه ښځه كه چيري نفل لمونځ يا په تراويحو كي قراءة بالجهر په كور كي دننه لولي اوپه دغه

(١) ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص٥٠٣، ط.س. ج١ ص٥٣٩. ظفير

(٢) وفي الخلاصة اذا قرأ سورة واحدة في ركعتين اختلف فيه والاصح انه لايكره ولكن لاينبغي ان يفعل ولو فعل لاباس به وكذا لو قرأ وسط السورة او اخر سورة في الاولى وفي الثانية وسط سورة او اخر سورة اخري اي لاينبغي ان يفعل ولو فعل لاباس به وفي نسخة الحلواني قال بعضهم يكره (فتح القدير فصل في القراءة ص٢٩٩ ج١). ظفير

(٣) ردالمحتار فصل في القراءة ص ٥٠٥ ج١،ط.س. ج١ ص٥٤١. ظفير

(٤) شرح معاني الاثار باب القراءة خلف الامام جلداول ص١٢٨ - ١٢٩. ظفير

کور کي پرته دخاوند او نورو محارمو څخه بل سړی نه وي نو جهر بالقراءة په لمانځه کي هغې ته جایز دی اوکه نه؟ دهغې لمونځ به صحیح وي او که نه؟

جواب: کمه ښځه چي دقران حافظه وي په لمانځه کي جهر نه سي کولای ځکه چي کلام دښځي عند البعض عورت دی، شامي جلد اول: وعلی هذا لو قیل اذا جهرت بالقراءة في الصلوة فسدت کان متجها (۱) الخ. فقط

فاتحه خلف الامام ویونکی ته کافر ویل غلط دي: **سوال**: (۴۷۱) دافغانستان یو مولوي صاحب دلته راغلی دی او هغه وایي چي فاتحه خلف الامام لوستونکی کافر دی؟

جواب: دامام ابو حنیفه رحمه الله په مذهب کي مقتدي ته په امام یسي سورة فاتحه او داسي نور لوستل نه دي په کار، ناجایز دي او همدا مقتضی دقران دایات ده: واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا (۲) او احادیث صریحه صحیحه لیکي: واذا قرأ فانصتوا او داسي نور دي، سره له دي ټولو خبرو فاتحه لوستوونکي ته کافر او مرتد ویل سخت جهالت اوګمراهي ده ویونکي ته دکفر بیره ده توبه دي وکړي، دا مسئله ددین په امامانو کي مختلف فیه ده، امام شافعي رحمه الله دفاتحة خلف الامام دلوستلو دوجوب قائل دی. (۳) نو په کافر ویلو کي دویونکي دکفر بیره ده الله تعالی دي موږ له داسي جهالت څه محفوظ وساتي. فقط والله تعالی اعلم.

په لمانځه کی دایاتونو جواب: **سوال**: (۴۷۲) غیر مقلد خلګ چي دایاتونو جواب ورکوي مثلا دسبح اسم ربك الاعلی جواب سبحان ربي الاعلی ورکوي، دا جایزدي اوکه نه؟

جواب: په سوال کي دذکر سوي جواب دحنفیانو په نزد په لمانځه کي ورکول جایز نه دی، جواب نه دي ورکول په کار البته له لمانځه څخه دباندي که چیري څوك ذکر سوی ایت ووایي نو خواب ورکول مسنون او مستحب دي او دحضور سرور عالم ﷺ څخه اکثر دا جوابونه په خارج کي منقول دي (۴) په لمانځه کي که چیري یوځای وارد وي نو هغه

---

(۱) ردالمحتار باب شروط الصلوة مطلب في ستر العورة ص۳۷۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۰۶. ظفیر

(۲) سورة الاعراف رکوع ۲۴. ظفیر

(۳) فقراءة الفاتحة لا تتعین رکنا عندنا الخ خلافا للشافعي رحمه الله في الفاتحة الخ والشافعي قوله علیه السلام لا صلوة الا بفاتحة الکتاب (هدایه) قوله خلافا الشافعي الخ حتی لوترك منها في رکعة لا تجوز صلاته (حاشیه هدایه باب صفة الصلوة ص۹۷ ج۱). ظفیر

(۴) عن ابن عباس ﷺ ان النبي صلی الله علیه وسلم کان اذا قرأ سبح اسم ربك الاعلی قال سبحان رب الاعلی رواه احمد قال المظهري عند الشافعي یجوز مثل هذه الاشیاء في الصلوة وغیرها وعند ابي حنیفة لایجوز الا

دتعليم لپاره دي، يا په ابتداء داسلام کي وه ترکله پوري چي په لمانځه کي زيات قيود نه وه مثلا خبري به يي کولي، خپل تللي رکعتونه به يي ژر وکړل او دامام سره به شريکيدى اوداسي نور، کرار کرار دا کارونه منع سول. فقط

په دويم رکعت کی دطول په ورکولو کی دکم شي اعتبار دی؟ سوال: (۴۷۳) په لمانځه کي داول رکعت څخه په دويم رکعت کي زيات قراءت مکروه دی داپه حساب دایاتونو دی که په حساب دحروفو دی اوکه په حساب دکلماتو دی؟

جواب: که چيري ايتونه برابر يا برابر ته نژدي وي نو داياتونو دشمار اعتبار دی چي ددويم رکعت قراءت دي ددريو اياتونو څخه زيات نه وي اوکه چيري اياتونه متفاوت وي په طول اوقصر کي نو دحروفو او کلماتو اعتبار دی ([1]) الخ. فقط

په يوه رکعت کی دوه سورتونه لوسقل څنګه دي؟ سوال: (۴۷۴) دماخستن يا سهار په لمانځه کي چي امام په يوه رکعت کي دوه سورتونه ووايي نوڅه کراهت خو په لمانځه کي نه راځي

جواب: په يوه رکعت کی دوه سورتونه لوستل خلاف اولی دي، لمونځ کيږي او دخلاف اولی څخه مراد کراهت تنزيهي دی، قال في الشامي وذكر شيخ الاسلام لا ينبغي له ان يفعل على ما هو ظاهر الرواية وفي شرح المنية الأولى ان لايفعل في الفروض ولو فعل لا يكره اي لايكره تحريما. ([2]) (له دي عبارت څخه مخکي دا دي: اذا جمع بين سورتين في ركعة رأيت في موضع انه لاباس به، ظفير)

قراءت خلف الامام جايز دی اوکه نه؟ سوال: (۴۷۵-۱) په امام پسي قراءت جايز دی که نه؟

په لوړ آوازسره امين جايزدی که نه؟ سوال: (۴۷۶-۲) امين په لوړ اوازسره ويل څنګه دي؟

جواب: (۱) دامام ابوحنيفه رحمه الله په مذهب کي مقتديانو ته سورة فاتحه او داسي نور لوستل منع دي، امام شافعي رحمه الله ضروري فرمايي خو حنفيانو ته دامام شافعي رحمه الله

في غيرها قال التوربشتي وكذا عند مالك يجوز في النوافل آه (مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ص۴۳۲ باب القراءة في الصلوة). ظفير

([1]) واطالة الثانية على الاولى يكره تنزيها اجماعا ان بثلاث ايات ان تقاربت طولا وقصرا والا اعتبرت الحروف والكلمات الخ باقل لايكره (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة جلد اول ص۵۰۲، ط.س. ج۱ ص۵۴۲). ظفير

([2]) ردالمحتار فصل في القراءة ص ۵۱۰ ج۱ وكذا لو جمع بين سورتين في ركعة واحدة الاولى ان لا يفعل في الفرض ولو فعل لايكره (غنية المستملي ص۴۲۲) ولو جمع بين سورتين في ركعة لاينبغي ان يفعل ولو فعل لا باس به (فتح القدير فصل في القراءة ص۲۹۹ ج۱). ظفير

مذهب په دي باره کي اختيارول جايز نه دي، دمسلم شريف په حديث کي راغلي دي: واذا قرأ فانصتوا [۱] يعني کله چي امام لوستل کوي نو تاسو چپ اوسئ، په بل حديث کي راغلي دي دامام قراءت دمقتدي قراءت دی.

(۲) امين په لوړ اواز سره دحنفيانو په نزد مسنون نه دی [۲] لکه څنګه چي په قران شريف کي راغلي دي: ادعو ربکم تضرعا وخفية. [۳] فقط

دفاتحه خلف الامام حکم سته که نه؟ سوال: (۴۷۷) په امام پسي دسورت فاتحي دلوستلو څه حکم دی؟

جواب: په امام پسي الحمد او سورت هيڅ نه دي لوستل په کار څنګه چي په حديث شريف کي راغلي دی: واذا قرأ فانصتوا [۴] او په بل حديث کي راغلي دي: من کان له امام فقراءة الامام له قراءة [۵].

که چيری امام په جهری لمانځه کي يوځو اياتونه سرا ووايي نو څه وکړي؟ سوال: (۴۷۸) که چيري امام په جهري لمانځه کي دوه دري اياتونه خفيه ووايي نو په ياديدلو سره يې بيرته له پيل څخه په زوره ووايي اوکه له همدغه ځای څخه؟ او سجده وکړي او که نه؟

جواب: له نوي سره دي جهرا ووايي [۶] او سجده سهوه دي وکړي. [۷]

فاتحه خلف الامام او لاسونه دنامه څخه لاندي تړل: سوال: (۴۷۹) په امام پسي سورت فاتحه لوستل جايز دي اوکه نه؟ او لاسونه تر نامه لاندي اوکه په نامه سربيره تړل په کار دي؟ تر نامه لاندي په تړلو باندي ځيني غير مقلدين اعتراض او طعن کوي؟

---

(۱) والمؤتم لايقرء مطلقا ولا الفاتحة في السرية اتفاقا فان قرء کره تحريما (الی قوله) بل يستمع اذا جهر وينصت اذا سر لقول ابي هريره رضی الله عنه کنا نقرء خلف الامام فنزل واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص۵۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۴ – ۵۴۵). ظفير

(۲) مشکوة باب القراءة في الصلوة ص۸۱. ظفير

(۳) والثناء والتعوذ والتسمية والتامين وکونهن سرا (درمختار) جعل سرا خبر الکون المحذوف ليفيد ان الاسرار بها سنة اخری (ردالمحتار ص۴۴۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۷۵ – ۴۷۲). ظفير

(۴) عن ابي هريرة قال قال رسول الله ﷺ انما جعل الامام ليؤتم به فاذا کبر فکبروا واذا قرء فانصتوا رواه ابو داؤد والنسائي وابن ماجه (مشکوة ص۸۱). ظفير

(۵) موطا امام محمد ص۲۸. ظفير

(۶) درمختار: ويجهر الامام وجوبا بحسب الجماعة فان زاد عليه اساء ولو ائتم به بعد الفاتحة او بعضها سرا اعادها جهرا بحر او په شامي کي راغلي دي: (قوله اعاد جهرا) لان الجهر فيما لقي صار واجبا بالاقتداء والجمع بين الجهر والمخافة في رکعة واحدة شنيع (ردالمحتار فصل في القراءة جلد اول ص۴۹۷، ط.س. ج۱ ص۵۳۲).

(۷) څرنګه چي تاخير وسو ددي لپاره دي سجده سهوه وکړي، وتاخير الواجب عن محله وهو موجب لسجود السهو. ظفير

جواب: په امام پسي الحمد او داسي نور دجمله قراءت ممانعت له قران شريف او صحيح احاديثو څخه ثابت دی: قال الله تعالى: واذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا، الاية ففي حديث مسلم واذا قرأ فانصتوا، الحديث ([1]) او په حديث صحيح کي راغلي دي: من كان له امام فقراءة الامام له قراءة ([2]) اوپر نامه سربيره او دنامه څخه لاندي دلاس په تړلو دواړه ډولونو حديثونه موجود دي، يو امام په يوه عمل کړي دی او بل امام په بل ([3]) نو اعتراض پريوه هم نه کيږي (ايضاح الادله) راوغواړی په هغه کي دا ټول مسائل موجود دي او دهغه احاديث وګوری ډير دکار کتاب دی او دغير مقلدينو په جواب کي بي مثله دی، په هره يوه اختلافي مسئله کي يي احاديث نقل کړي دي او دامام صاحب مؤيد احاديث يي مفصل تحرير فرمايلي دي. فقط

<u>له ترتيب څخه خلاف قراءت څه حکم لري؟</u> سوال: (۴۸۰) دفرضو په اول رکعت کي قل هو الله اوپه دويم کي چي قل اعوذ برب الفلق ولوستل سي نو جايز دي که مکروه؟ او دتراويحو په اول رکعت کي قل اعوذ برب الناس او په دويم کي دسورة البقري يو څو اياتونه لوستل څنګه دي؟ او په اول رکعت کي يي په غلطی سره دشپاړسمي پاري رکوع ولوسته او په دويم کي يي دپنځلسمي پاري رکوع ولوسته، دا صورت مکروه دی که څنګه دی؟

جواب: په اول فرض رکعت کي قل هوالله او په دويم رکعت کي قل اعوذ برب الفلق لوستل جايز دي مکروه نه دي ([4]) همدارنګه په تراويحو کي په اول رکعت کي قل اعوذ برب الناس او په دويم رکعت کي دسورة البقري داول څخه يو څو اياتونه لوستل جايز دي ([5]) اوسهوا که چيري په اول رکعت کي دشپاړسمي پاري رکوع اوپه دويم رکعت کي

([1]) مسلم ص۱۷۴ ج۱. ظفير

([2]) موطأ امام محمد ص۷۸. ظفير

([3]) رواه ابوداؤد في سننه علي انه قال السنة وضع الكف تحت السرة (نصب الراية ص۳۱۳ ج۱). ظفير

([4]) په دې کي دکراهت څه وجه نسته ځکه حي دترتيب مطابق دي البته له ترتيب څخه خلاف مکروه دی: ويكره الفصل بسورة قصيرة وان يقرأ منكوسا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل في القراءة ص۵۱۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۲) اوکه چيري شپه وي چي قل هو الله کوچنی سورت دی او قل اعوذ برب الفلق لوی دی نو دا يوازي دنوم خبره ده، او دکراهت دپاره دري اياته زيات کېدل په کار دي: واطالة الثانية على الاولى يكره تنزيها اجماعا ان بثلاث ايات الخ وان باقل لايكره (ايضا ص۵۰۲ ج۱). والله اعلم، ظفير

([5]) واذا قرء في الاولى قل اعوذ برب الناس ينبغي ان يقرأها في الثانية ايضا الخ وفي الولوالجية من يختم القران في الصلوة اذا فرغ من المعوذتين في الركعة الاولى يركع ثم يقوم في الركعة الثانية يقرء بفاتحة الكتاب وشيء من البقره (غنية المستملي ص۴۲۳). ظفير

دپنځلسمي پاري رکوع ولوستل سوه نو په دي کي هم څه کراهت نسته، البته په فرضو کي قصدا داسي نه دي کول په کار ځکه چي مکروه دي خو که په هیره وي نو هیڅ ستونزه نسته. (۱)

منفرد په لمانځه کی قراءت جهری وکړي اوکه سري؟ سوال: (۴۸۱) که چیري څوك په یوې وجي سره جومات ته ولاړ نه سي په کور کي لمونځ کوي نو هغه ته په زوره په قراءت سره لمونځ کول جایزدي که نه؟

جواب: دمنفرد لپاره په جهري لمانځه کي لکه دماښام او ماخستن اوپه سهار کي جهر غوره دی نو په صورت مسئوله کي په اواز سره لوستل صحیح دي بلکي غوره دي (۲) البته جماعت پرېښودل پرته له شرعي عذر څخه ګناه ده. (۳)

په لمانځه کی له بیلا بیلو پارو څخه قراءت جایز دي: سوال: (۴۸۲) ما په زیاتو فرائضو کي دبېلو ببلو پارو رکوع ګاني او دمختلفو پارو او سورتونو ایاتونه لوستلي دي دا جایز دي که نه؟ که چیري نه وي نو په دي سره په لمونځونو کي خو به څه فرق نه وي راغلی؟

جواب: کم عمل چي ستاسو مخکي پاته سوی دی بېل بېل ایاتونه په لمانځه کي دلوستلوپه دي کي څه ګناه ونه سوه او په لمونځونوکي هیڅ فرق رانغی، البته آینده ته په فرائضو کي په هر یوه رکعت کي پوره سورة وایاست، دا سنت دی یو سورت په دوو رکعتونو کي مه وایاست متفرق ایاتونه او رکوع ګاني هم مه وایاست په نفلونو کي صحیح دی. (۴)

په سنتو او وترو کي دمتفرقو ایاتونو دلوستلو حکم: سوال: (۴۸۳) په سنت موکدو او په وترو کي ببل ببل ایاتونه لوستل څنګه دي؟

---

(۱) افاد ان التنکیس او الفصل بالقصیرة انما یکره اذا کان عن قصد فلو سهوا فلا کما في شرح المنیة (ردالمحتار فصل في القراءة جلد اول ص۵۱۰). ظفیر

(۲) وان کان منفردا فهو مخیر ان شاء جهر واسمع نفسه لانه امام في حق نفسه وان شاء خافت لانه لیس خلفه من یسمعه والافضل هو الجهر لیکون الاداء علي هیئة الجماعة (هدایه فصل في القراءة ج۱ ص۱۰۵). ظفیر

(۳) والجماعة سنة مؤکدة للرجال قال الزاهدي ارادوا بالتاکید الوجوب (درمختار) قال في النهر الا ان هذا یقتضی الاتفاق علی ان تکرها مرة بلا عذر یوجب اثما الخ (ردالمحتار باب الامامة، ط.س. ج۱ ص۵۵۲). ظفیر

(۴) الافضل ان یقرأ في کل رکعة الفاتحة وسورة کاملة في المکتوبة الخ ولو قرأ بعض السورة في رکعة قیل یکره وقیل لایکره وهو الصحیح ولکن لاینبغي ان یفعل ولو فعل لاباس به کذا في الخلاصة ولو قرأ من وسط سورة او من اخر سورة وقراء في الرکعة الاخري من وسط سورة اخری او من اخر سورة اخري لاینبغي له ان یفعل ذلك علي ماهو ظاهر الروایة ولکن لو فعل ذلك لابأس به (الی قوله) هذا کله في الفرائض واما في السنن لا یکره (عالمګیري کشوری فصل رابع في القراءة ص۷۷ ج۱، ط. ماجدیة ج۱ ص۷۸ – ۷۹). ظفیر

جواب: په وترو او سنت موکدو کي هم بهتر پوره سورت لوستل دي مګر متفرق اياتونه لوستل هم جايز دي. (۱) فقط

دجمعي په سهار کی قراءت: **سوال**: (۴۸۴) دجمعي په سهار کي سورة جمعه او منافقون لوستل سنت دي ددي څخه علاوه بل يو سورت لوستل خو خلاف سنت نه دي؟

جواب: درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه سورة جمعه او منافقون لوستل اکثره ثابت دي نه هميشه که چيري څوك ددي څخه علاوه لوستل وکړي نو دسنت څخه خلاف نه دي (۲) بلکه په دي سره دعوامو دغلطی څخه دژغورلو ډير اميد دی، او په همدي وجه داحنافو په نزد تعيين دسورت نسته (۳). فقط

فاتحه خلف الامام: **سوال**: (۴۸۵) مقتدي ته په امام پسي دقراءت ويلو څه حکم دی؟ ځيني صاحبان فرمايي چي پرته له فاتحي څخه دمقتدي لمونځ نه کيږي، او ځيني صاحبان فرمايي چي دامام قراءت مقتدي ته کافي دی، صحيح خبره څه ده؟ او مقتدي ته قراءت کول په کار دي که نه؟

جواب: کم صاحب چي دا فرمايي چي دامام قراءت مقتدي ته کافي دی دهغوی قول صحيح دی، مقتدي ته په امام پسي قراءت ويل نه دي په کار، دامام ابو حنيفه رحمه الله همدا مذهب دی په حديث شريف کي راغلي دي: واذا قرأ فانصتوا (۴) الخ. فقط

دسهار په لمانځه کی دقراءت اندازه: **سوال**: (۴۸۶) دسهار په لمانځه کي څومره قراءت لوستل سنت دی؟

جواب: طوال مفصل سورتونه لوستل دسهار په لمانځه کي سنت دي يعني له سورة حجرات څخه تر سورة بروج پوري (۵). فقط

ضادپه ظا لوستل څنګه دي: **سوال**: (۴۸۷-۱) ضاد په ظاء لوستل په لمانځه کي څنګه دي؟

---

(۱) عالمګيري کشوری، فصل رابع في القراءة ص۷۷ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۷۸ – ۷۹. ظفير

(۲) ويكره التعيين كالسجدة وهل اتي الفجر كل جمعة بل يندب قرائتهما احيانا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۰۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۴). ظفير

(۳) واذا فرغ من الخطبة اقام الصلوة وصلي بالناس ركعتين على ما هو المتوارث المعروف وفي التحفه وغيرها يقرء فيهما قدر ما يقرأ في الظهر لانهما بدل منه ان قرء بسورة الجمعة واذا جاءك المنافقون او سبح اسم او: هل اتاك حديث الغاشية تبركا بالماثور عنه عليه الصلوة والسلام على مامر في صفة الصلوة كان حسنا، لكن يتركه احيانا لئلا يتوهم العامة وجوبه (غنية المستملي ص۵۲۰). ظفير

(۴) مشكوة ص۷۹. ظفير

(۵) وليسن في الحضر لامام ومنفرد طوال المفصل من الحجرات الى اخر البروج في الفجر والظهر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار، ص۵۰۳ ج۱ مطلب السنة تكون سنة عين وكفاية). ظفير

ضاد له منځني مخرج څخه دادا کوونکي امامت جواز لري اوکه نه؟ سوال: (۴۸۸-۲) بکر امین بالجهر او رفع الیدین نه کوي، او دحنفي مذهب پوره پابند دی، خو الحمد اوه (۷) ایاته لولي او دضاد حرف داسي لولي چي نه دال څرګندیږي او نه ظا ایا په دا ډول امام پسي اقتداء کول جواز لري؟

جواب: (۱) کم سړی چي له مخرج څخه په لوستلو باندي قادر وي هغه دي له مخرج څخه ادا کوي، قصدا دي ظا نه لولي، په دي کي ډېر احتیاط اړتیا ده دفقه اکبر په شرح کي یي په ځینو روایاتو کي په بالقصد لوستلو کي حکم دکفر نقل فرمایلی دی. (۱) اعاذنا الله.

(۲) دجمعي امام ته په داسي امورو کي احتیاط کول په کار دي څه ضرورت دی چي هغه دعامو احنافو علماوو څخه خلاف داسي خبره اختیاروي چي ورسره په عامو لمونځ کوونکو کي تشویش پیدا کیږي، ایا دهغه په نزد دهغه خلګو لمونځ نه کیږي چي په الرحمن الرحیم او اهدنا الصراط المستقیم باندي وقف نه کوي یا ضاد په ظا نه لولي، که چیري داسي نظر وي نو ګویا دخواص او عوام اهل اسلام دعربو او عجمو لمونځونه هغه باطل ګڼي، او بطلان دداسي عقیدي او نظر ظاهر دی اخر څنګه علماء محققین په احنافو کي تیر سوي دي؟ ذکر سوی امام خپل تحقیق دهغو ټولو څخه زیات ګڼي چي دخپل تحقیق په وړاندي دهیچا دا نه اوري او دټولو څخه خلاف خپله رایه داعتماد وړ او صوابه او سمه ګڼي. فقط

دوترو په دریم رکعت کي سورت یوځای کول په کار دي: سوال: (۴۸۹) دوترو په دریم رکعت کي چي پکښي دعاء قنوت لوستل کیږي په هغه کي سورت یوځای کول په کار دي اوکه نه؟

جواب: دوترو په دري واړو رکعتونو کي له الحمد سره سورت یوځای کول ضروري او فرض دی په دریم رکعت کي هم سورت یوځای کول ضروري دی همیشه وتر همدا ډول لوستل په کار دي. هکذا في عامة کتب الفقه. (۲) فقط

له نبي کریم ﷺ او صحابه ؤ څخه امین بالجهر او بالاخفاء ثابت دی که نه؟ سوال: (۴۹۰) د

---

(۱) وفي المحیط سئل الامام الفضلي عمن یقرأ الظاء المعجمة مکان الضاد المعجمة هو یقرأ اصحاب الجنة مکان اصحاب النار فقال لایجوز امامته ولو تعمد یکفر قلت اما کون تعمده کفرا فلا کلام فیه اذا لم یکن فیه لغتان ففي ضنین الخلاف. شامي، واما تبدیل الظاء مکان الضاد ففیه تفصیل (شرح فقه اکبر ص۲۵۵). ظفیر

(۲) وهو ثلاث رکعات بتسلیمة الخ ولکنه یقرأ في کل رکعة منه فاتحة الکتاب وسورة احتیاطا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ص۲۲۲ ج۱، ط.س. ج۲ ص۵). ظفیر

رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه وو رضي الله عنهم څخه په کراره او سوکه امین ویل ثابت دی اوکه نه؟

جواب: په احادیثو کي دامین په لوړ او په کرار اواز سره روایت سوی دی او په مجتهدینو امامانو کي ځینو امین ته په لوړ اواز راجح فرمایلي دي او ځینو امین په کرار اواز ته راجح فرمایلي دي (۱) نو امام ابو حنیفه رحمه الله امین په کرار اواز ته سنت فرمایلي دي او امین په لوړ اواز په تعلیم او ضرورت باندي محمول فرمایي، لکه څنګه چي به ځیني وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم په سري لمانځه کي یو ایت په لوړ اواز سره ولوستی چي مقتدیانو ته څرګنده سي چي هغه صلی الله علیه وسلم فلانی سورت لولي، او دامام ابوحنیفه رحمه الله دمذهب تائید له قراني ایات څخه هم کیږي، الله جل جلاله فرمایي: أدعوا ربَّکم تضرعًا وخفية، والبحث فيه طويل فاكتفى على هذا الدليل.

په فرائضو او نوافلو کی دیوه سورت په مینځ کی په پرېښودلو قراءت صحیح دی که نه؟ سوال:

(۴۹۱) په فرضو یا په نفلو کي یو سورت په مینځ کي پرېښودل او بل لوستل جایز دی اوکه نه؟

جواب: په فرائضو کي دیوه کوچني سورت فصل کول مکروه دی او په نوافلو کي صحیح دی، کذا في الدر المختار. (۲)

دایت سر یې پرېښودی او پاته یې وواېه نو لمونځ وسو که نه؟ سوال: (۴۹۲) امام دسورة فاتحي څخه وروسته دسورة (إنّا فتحنا) داخري رکوع اخري ایات (محمد رسول الله) پریښودی یعني له (والذين معه اشداء) الاية څخه تر (منهم مغفرة واجرا عظيما) پوري یې ولوستی نو لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: لمونځ وسو خو دانبه کار ونه سو چي دایت سر یې پریښودی. (۳)

---

(۱) عن وائل بن حجر قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا قرأ ولا الضالين قال امين رفع بها صوته رواه ابوداؤد والترمذي واخرون وهو حديث مضطرب وعن ابي هريرة قال كان النبى صلى الله عليه وسلم اذا فرغ من قراءة ام القران رفع صوته وقال امين وقد قال الله تعالى ادعوا ربكم تضرعا وخفية عن ابي هريرة قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعلمنا يقول لا تبادروا الامام اذا كبر فكبروا واذا قال ولا الضالين فقولوا امين واذا ركع فاركعوا الخ رواه مسلم قال النيموي يستفاد منه ان الامام لا يجهر بامين واخفى بها صوته رواه احمد والترمذي وابوداؤد واخرون واسناده صحيح وفي متنه اضطراب (اثار السنن باب ترك الجهر بالتامين ص۹۴ ج۱) تفصیل په ذکر سوي کتاب کي وګورئ. ظفير

(۲) ويكره الفصل بسورة قصيرة وان يقرء منكوسا الخ ولايكره في النفل شيء من ذلك (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ص۵۱۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۲). ظفير

(۳) الافضل ان يقرأ في كل ركعة الفاتحة وسورة كاملة في المكتوبة الخ ولو قرأ في ركعة من وسط سورة اومن =

په اول رکعت کې یې اذا جاء، او په دویم کې یې قل هو الله ولوستل څه حکم دی؟ سوال: (۴۹۳) امام په اول رکعت کي سورة اذا جاء ولوستی او په دویم رکعت کي یي قل هو الله نو لمونځ بیا کول په کار دي اوکه څنګه؟

جواب: په فرائضو کي قصدا داسي کول مکروه دي اوسهوا که چیري داسي وسول نوڅه کرا هت نسته په هر صورت دلمانځه راګرځول لازم نه دي. (۱)

چي یو سورت په مینځ کې پریږدي یا بې موقعی وقفه وکړي نو څه حکم دی؟ سوال: (۴۹۴) که چیري څوك په لمانځه کي له یو سورت لوستلو څخه وروسته یو پریږدي او دریم سورت ولولي او په قراءت کي بي موقعي وقف وکړي نو ددي څه حکم دی؟

جواب: ویکره الفصل بسورة قصیرة الخ ولا یکره في النفل شيء (۲) (في الدرالمختار) حاصل دا دی چي دکوچني سورت فاصله کول مکروه ده، خوپه نوافلو کي مکروه نه ده که چیري دایت په منځ کي یي ساه ختمه سوه په دي وجه یي وقف وکړی نو ددې ایت راګرځول په کار دي، نور دي تفصیلي حکم له یو قاري څخه وپوښتل سي. فقط

دقران کریم ژباړه یعني ترجمه په لمانځه کې لوستل څنګه ده؟ سوال: (۴۹۵) دیوه زبردست عالم بیان دی چي که چیري دقران شریف دیو ایت ژباړه په اردو کي ولوستل سي نو لمونځ ادا کیږي ځکه چي قران شریف کلام الله نه دی بلکي دهغه ژباړه اوترجمه ده چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په عربي ژبه کي کړي ده، او دقران شریف دنزول دا ذریعه بیانوي چي الله تعالی دهغوي په زړه کي اچولی دی، هغه په خپلي ژبي مبارکي سره ادا کړی، دا بیان ددغه مولوي صاحب صحیح دی که غلط؟

جواب: ددغه زبردست عالم په حوالي سره چي کمه مسئله تاسو لیکلي ده هغه بالکل غلطه ده، له دي څخه څرګندیږي چي دغه صاحب ددین عالم نه دی، افسوس دی چي داسي داسي غلطي مسئلي په نامه عالمان بیانوي، په لمانځه کي دسورت فاتحي یا دبل سورت دترجمي په لوستلو سره لمونځ نه کیږي، ځکه چي قران شریف نوم دی دهغه عربي

= اخر سورة وقرأ في الرکعة الاخري من وسط سورة اخري او من اخر سورة اخري لاینبغي له ان یفعل ذلك علی ما هو ظاهر الروایة ولکن لو فعل ذلك لابأس به کذا في الذخیرة (عالمګیري مصري الباب الرابع في صفة الصلوة فصل رابع ص۷۳ ج۱، ط. ماجدیة ج۱ ص۷۸ – ۷۹). ظفیر

(۱) ویکره الفصل بسورة قصیرة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، جلد اول ص۵۱۰، افاد ان التنکیس او الفصل بالقصیرة انما یکره اذا کان عن قصد فلو سهوا فلا کما في شرح المنیة (ردالمحتار فصل في القراءة جلد اول ص۵۱۰، ط.س. ج۱ ص۵۴۲). ظفیر

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل في القراءة، جلد اول ص ۵۱۰ ، ط.س. ج۱ ص۵۴۲. ظفیر

کلام الله چي مابين الدفتين دی يعني ددوو وِقايو (ټوکونو) په مينځ کي چي کم کلام الله دی همدا قران شريف دی، او همدا کلام الله دی داهل سنت والجماعة دا عقيده ده ([1]) نو ددغه مولوي دا ويل چي دا عربي قران شريف کلام الله نه دی بلکي دهغه ژباړه ده الخ، بالکل غلطه ده او افتراء ده، الله جل جلاله فرمايي ((انا انزلنه قرانا عربيا)) ([2]) همدارنګه په زياتو ځايونو کي يې قران ته عربي فرمايلي دي او يو ځای دا هم ارشاد دي ((ولو جعلناه قرانا أعْجميا لقالوا لو لا فُصّلت آياتُهُ ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ))، يعني الله تعالی فرمايي چي که چيري موږ قران په عربي ژبه کي نه وای نازل کړی نو کافرانو به دا اعتراض کولی چي په عربي پيغمبر باندي عجمي قران نازل سوی دا خو عجيبه خبره ده، او دفقهي په کتابونو کي يي صفا دا ليکلي چي په لمانځه کي دقران شريف دژباړي په لوستلو سره لمونځ نه کيږي، البته يو نوی مسلمان سړی چي دداسي سختي ژبي والا وی چي هغه عربي لفظونه نه سي ويلای نو دهغه لپاره تر هغه وخته پوري چي هغه يې ياد کړي او قران ولوستلی سي دا صحيح ده، چي يوازي ژباړه ووايي ځکه چي هغه معذور دی دقران دلوستلو څخه، او دا ويل دهغه چي خدای تعالی دهغه صلی الله عليه وسم په زړه کي (قرآن) واچوی هغه صلی الله عليه وسلم په خپلي ژبي سره په عربي الفاظو کي بيان کړی دهغه دا عقيده هم بالکل له اهل سنت څخه خلاف ده، دی دنيچريت او مرزائيت معتقد معلوميږي، داهل سنت او اهل اسلام دا عقيده ده چي دحضرت جبريل عليه السلام په ذريعه قران شريف نازل سوی دی، په خپله په قران شريف کي راغلي دي: ((نزل به الروح الامين))، چي دا قران روح الامين يعني جبريل عليه السلام دالله له لوري څخه نازل کړی دی غرض دا چي دداسي عقيدي لرونکي خبره نه اوريدل او نه منل په کار دي. فقط

په جهري لمونځ کی قراءت په جهر سره وکړي اوکه نه؟ **سوال:** (۴۹۲- ۱) ښځي په سري او جهري لمانځه کي قراءت په لوړ اواز سره ويلای سي او که نه؟

دفرض قراءت اندازه څومره ده؟ **سوال:** (۴۹۷-۲) په لمانځه کي قراءت فرض دی څومـــره

([1]) كما صح لوشرع بغير عربية الخ او قرأ بها عاجز فجائز اجماعا قيد القراءة بالعجز لان الاصح رجوعه الى قولهما وعليه الفتوى قلت وجعل العيني الشروع كالقراءة لاسلف له ولاسند له يقويه (درمختار) وانما المنقول انه رجع الى قولهما في اشتراط القراءة بالعربية الا عند العجز الخ لان الامام رجع الى قولهما في اشتراط القراءة بالعربية لان المامور به قراءة القران وهو اسم للمنزل باللفظ العربي المنظوم هذا النظم الخاص المكتوب في المصاحف المنقول الينا نقلا متواترا الخ (ردالمحتار، باب صفة الصلوة فصل تاليف الصلوة ص۴۵۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۴۸۳ – ۴۸۴). ظفير

([2]) سورة يوسف: ركوع ۱ . ظفير

اندازه فرض دی؟

دسهار په یوه رکعت یی یوه رکوع ولوسته اوپه دویم کی یی یو سورت نو څه حکم دی؟ سوال:
(۴۹۸-۳) دسهار یا بل وخت په لمانځه کي یي په لومړي رکعت کي دیوه سورت رکوع او په دویم رکعت کي یي دیوه سورت جز یا ټول ولوستی نو صحت لري اوکه نه؟

جواب: (۱) ښځي دي په ټولو لمونځونو کي قراءت په کراره وایي (في الکبیر قال ابن الهمام خرج بالنوازل بان نغمة المرأة عورة الی قوله وعلی هذا لوقیل اذا جهرت بالقران في الصلوة فسدت کان متجها). ([1])

(۲) مطلق قراءت په اندازه دیوه ایت فرض دی کما في الشامي، اي قراءة اية من القران وهي فرض عملي ([2]) او الحمد شریف او له هغي سره دسورت یو ځای کول واجب دي او مقدار دکوچني سورت لکه د(انا اعطیناك الکوثر) ایاتونه دي، واجبورباندي ادا کیږي (وتجب قراءة الفاتحة وضم السورة او ما یقوم مقامها من ثلاث ایات قصار او اية طویلة في الاولیین، عالمګیري ص۲۲ ج۱. ظفیر). فقط

(۳) مستحب دا دی چي په هر رکعت کي پوره سورت ووایي (والافضل ان یقرأ في کل رکعة سورة تامة ولو قرأ ببعض السورة في رکعة وباقیها في رکعة قیل یکره والصحیح انه لایکره الخ کبیري ص۴۲۲).

قراءت خلف الامام صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۴۹۹) قراءة خلف الامام جواز لري او که نه؟

جواب: قراءة خلف الامام په نزد دامام اعظم رحمه الله جایز نه دی، لقوله علیه السلام من کان له إمام فقراءة الامام له قراءة. رواه الطحاوي والامام محمد في موطاه واسناده صحیح کما في اثار السنن وقوله علیه السلام واذا قرأ فانصتوا. الحدیث رواه مسلم ([3]) وغیره، والله تعالی اعلم. کتبه عزیز الرحمن مفتي مدرسه عالیه دیوبند

(ویکره عندنا لما فیه من الوعید ویستمع وینصت (هدایه) قال العلامه بدرالدین العیني في شرح الهدایه وفي شرح التاویلات عن سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه من قرأ خلف الامام لاصلوة له وروی ایضا في ذلك عن جماعة من الصحابة رضی الله عنهم، جمیل الرحمن).

([1]) ردالمحتار باب شروط الصلوة مطلب في ستر العورة جلد اول ص۳۷۷، ط.س. ج۱ ص۴۰۲. ظفیر

([2]) ردالمحتار، باب صفة الصلوة مبحث القراءة جلد اول ص۴۱۵، ط.س. ج۱ ص۴۴۲. ظفیر

([3]) مشکوة باب القراءة في الصلوة ص۷۹ وص۸۱ او اثار السنن باب فی ترك القراءة خلف الامام جلد اول ص۸۷. ظفیر

دمسبوق لپاره په قراءت کی دامام ترتیب لازم دي اوکه نه؟ سوال: (۵۰۰) دمسبوق پرذمه ترتیب دامام لازم دی که نه؟ مثلا امام یو سورت ولوستی نو مسبوق دهغه څخه مخکي سورت بلا کراهته لوستلی سي اوکه نه؟

جواب: دمسبوق پرذمه ترتیب دامام لازم نه دی ځکه چي هغه په خپل لمانځه کي دمنفرد په حکم کي دی. (والمسبوق من سبقه الامام بها او ببعضها وهو منفرد فیما یقضیة، درمختار، جمیل)

دمشکوة او بخاري په ترتیب کی تطبیق څنګه دی؟ سوال: (۵۰۱) دسورة فاتحي دنه لوستلو په باره کي په مشکوة کي خداج لفظ راغلی دی اواپه بخاري کي لاصلوة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب، ددي مطلب واضح وفرمایاست !

جواب: دا حکم دامام او منفرد لپاره دی مقتدي ته دقراءت ممانعت په نورو صحیحو احادیثو کي موجود دی، واذا قرا فانصتوا ([1]) الحدیث من کان له امام فقراءة الامام له قراءة ([2]) الحدیث وقال الله تعالی: واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا ([3]). فقط

له ترتیبه څخه خلاف دقراءت څه حکم دی؟ سوال: (۵۰۲) په قراءت کي د(الم نشرح) وړاندي کول او د(والضحی) وروسته کول جایز دی که نه؟ اوکه چیري سهوا داسي وکړي نو سجده سهوه سته که نه؟

جواب: قصدا دي د(الم نشرح) مخکي والی او د(والضحی) وروسته والی نه کوي اودهیري په حالت کي سجده سهوه نسته (في الدرالمختار، ویکره الفصل بسورة قصیرة وان یقرء منکوسا، قال الشامی لان ترتیب السور في القراءة من واجبات الصلوةأ الی ان قال) انما یکره اؤا !!اظ عن ق!صد فلو سهوا فلا (شامي ص ۵۱۰ ج ۱ في فصل القراءة، جمیل الرحمن)

له مینځ څخه سورت وایی نو بسم الله ووایی که نه؟ او همدارنګه په قنوت اوجنازه کی ددعا په پیل کی دبسم الله دویلو په هکله څه حکم دی؟ سوال: (۵۰۳) کله چي یو سورت دمینځ څخه وایي نو بسم الله ووایي که نه؟ اوپه وتروکي چي کله دعاء قنوت وایي نو بسم الله ووایي که نه؟ اودجنازي په لمانځه کي چي کله درود یادعاوایي نوبسم الله ووایي که نه؟

جواب: کله چي یوسورت دمینځ څخه وایي بیا دي هم بسم الله ووایي، اوپه وترو کي چي

([1]) مشکوة باب القراءة في الصلوة ص۷۹ وص۸۱. ظفیر

([2]) آثار السنن باب في ترك القراءة ص۸۷. ظفیر

([3]) سورة الاعراف رکوع ۲۴. ظفیر


کله دعاء قنوت وايي نوهم بسم الله ويلای سی، او دجنازي په لمانځه کي چي کله درود يا دعا وايي او بسم الله يي په سر کي وو‌ايي نو دلته هم څه ستونزه پکښي نسته. [1]
کتبه رشيد احمد، الجواب صحيح، عزيز الرحمٰن. فقط

دوهم جلد پوره سو

کمپوزنګ
قاري عبد الاحد الحقاني
العلم کمپيوټرز، کوئټه، پاکستان
تاريخ
الخميس، ۰۲ جمادی الأولی، ۱۴۳۰



[1] يعني په دي ټولو صورتونو کي که څه هم بسم الله لوستل مسنونه نه ده مګر که چيري يي وو‌ايي نوهيڅ ستونزه نسته کما في الشامي ص۴۵۸ ج۱ في بيان مفسدات الصلوة: قوله سمع اسم الله تعالی فقال جل جلاله الخ لان نفس تعظيم الله تعالی والصلوة علی النبی ﷺ لا ينافي الصلوة ويؤيده ما في الدرالمختار في بيان تاليف الصلوة لا تسن البسملة بين الفاتحة والسورة مطلقا ولو سرية ولا تکره اتفاقا الخ. جميل الرحمٰن غفرله



مع رسالة غاية التحقيق ونهاية التدقيق للعلامة السندي رحمه الله


بسم الله الرحمن الرحيم

دموجوده وخت په دار الافتآء کی دمروجه نسخو مطابق، دنوی تخریج سره اعلیٰ کمپوټری چاپ

فتاویٰ دارالعلوم دیوبند

مُدلّل و مکمّل

مع رسالة (**غاية التحقيق ونهاية التدقيق**) للعلامة السندي رحمه الله

فی تحقيق مسئلة إقتداء الحنفيّ بالشافعيّ

په کندهاری پښتو

دریم جلد ۳

کتابُ الصَّلٰوة (رُبع اوّل)

تالیف: مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی رحمه الله

((ددار العلوم دیوبند اول مفتی))

په لار ښوونه د: حکیم الاسلام حضرت مولانا قاری محمدطیّب صاحب رحمه الله (مهتمم دارالعلوم دیوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفیر الدین صاحب، رفیقِ شعبۀ ترتیبِ فتاوٰی دار العلوم دیوبند

اضافه تخریج جدید: مولانا مفتی محمد صالح، رفیقِ دارالافتآء جامعة اسلامیه، بنوری ټاؤن کراچی

ژباړه ، تعلیق او تحقیق : مولانا حافظ محمَّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانیه، پشاور

زیرِ نګرانی: شیخ الحدیث حضرت مولانا الشیخ عبد القادر النهرکاریزی (دامت برکاتهم العالیة)

مکتبهٔ حبیبیه

کاسی روډ، کوئټه : 0812662448

لومړی چاپ

۱۴۲۹ شعبان \ اګست 2008

Maktabah Habibiyah	مکتبه حبیبیه
Publishing Organization	خپروونکی اداره
AL – ILM Computers	العلم کمپیوټرز
Composing Organization	کمپوزنګ اداره

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارګ بازار کندهار ، افغانستان ، ګرځنده تلیفون

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجد نور ، کوئټه ، تلیفون شمیره

AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپیوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تلیفون شمیره

دفتاوی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست، حصه ۳

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الحمد لله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام علىٰ سيد المرسلين وعلىٰ اٰله وصحبه اجمعين.

دالله ﷻ لك لك شكرونه دي چې هغه خپل په بې انتها رحمت اومهرباني سره ددريمې حصې دتكميل توفيق راكې. اودخپل محنت اوخوارئ ترحده پورې چې څومره مې كولى سواى په هغه كې مې دخپل طرف څخه څه كوتاهي نه ده كړې. كاميابي راته ترڅومره حده پورې وسوه، ددې فيصله به دفضل اوكمال خاوندان كوي. خاكسار ديوې معمولي درجې طالب علم دى، البته دويلو، ليكلو اومطالعې لړ ډېر ذوق لري. كم وخت چې دا مهم اوخالص علمي كار راته حواله سوى وو. خداى ﷻ پوهيږي خوپه دې سوچ سره را ته دزړه اطمينان حاصل سوى وو، چې داخدمت راته زما دخواهش اومطالبې څخه بغير حواله سوى دى، اوحواله كونكي هغه خلگ دي چې دخپل وخت منتخب جيد علماء اوپه مسلمانانو كې دهر چا زړه خوښ دي. بيا ددې سره داحديث مې هم مخ ته وو چې رحمتِ عالم ﷺ حضرت عبد الرحمٰن بن سمره ؓ ته فرمايلي وه:

لا تسال الامارة فانك ان اُعطيتها عن مسئلة وُكلت اليها وان اُعطيتها عن غير مسئلة اُعنت عليها. متفق عليه

(مشكوٰة كتاب الامارة ص ۳۲۰)

دامارت (ذمه واري) هوس (غوښتنه) مه كوه. اومه دهغه دپاره درخواست وركوه. ولې چې كه چيرې په درخواست باندې درته داخدمت حواله سو نو دمدد څخه به محروم سې. البته كه چيرې دمطالبې څخه بغير درته داخدمت وسپارل سو نودالله ﷻ دطرف څخه به ستا امداد كول كيږي.

زما زړه خوشحاله دى چې همدغه شان وسوه. الله ﷻ زما امداد وفرمايى. اوكم كار چې دمودې راهيسې دچاپه واك كې نه وو پرهغه باندې واك پيداسو، دعا ده چې داكار سرته ورسيږي او ددې باقي جلدونه هم چاپ سي. او دملك اوملت مخ ته راسي. دلته په رارسيدو سره دااساتذۀ كراموبې انتها شفقتونه راته يادېږي دكمو ددعاګانو اوخصوصي توجهاتو دبركته چې راته دعلم اوفن شرف نصيب سو.

اِله العالمينه! زما داحقير خدمت قبول وفرمايي اوخلګو ته دزيات څخه زياتې استفادې موقع نصيب كړې. اودا ددې مرتب دپاره ددواړو جهانو دكاميابۍ ذريعه جوړه كړې.

ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم.

محتاج ددعا: **محمد ظفير الدين غفرله**، پوره نو ډيهاوي، دار الافتاء دار العلوم ديوبند

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلبَابُ الخَامِسُ فِی الاِمَامَۃِ

اولنی فصل: جَمع او دهغه اهمیت

که چیری په محله کی جمع نه کیږی نو دبلی محلې جومات ته تلل پکاردی او که نه؟

سوال: (۵۱۳) چی دمحلې په جومات کی دجمعی انتظام نه وی نودبلی محلې په جومات کی په جمع سره لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دخپلی محلې دجومات حق زيات دی. نودی سړی ته دخپل محلې جومات پرېښوول اوبل جومات ته تلل نه دی پکار. په شامی کی دخانيه څخه منقول دی چی دخپلی محلې په جومات کی که چيری يوازی هم دلمونځ کولو ضرورت راسی نوهم هلته دی اذان وکړی اولمونځ دی وکړی اوبل جومات ته دی نه ځی: لان له حقا عليه فهو يؤديه (۱) الخ. فقط

چی جومات ته څوک نه رازی نوآيا مؤذن دآذان کولو څخه وروسته جومات ته دجمعی دپاره تلی سی؟ **سوال**: (۵۱۴) يوسړی په جومات کی مؤذن لګيدلی دی، دغه جومات ته څوك لمونځ ګزارنه راځی. عموماً مؤذن يوازی لمونځ کوی. آيادغه مؤذن په خپل جومات کی دآذان کولو څخه وروسته بل جومات ته دجمعی دپاره تلی سی.

جواب: دآذان کولو څخه وروسته په همدغه جومات کی هغه ته لمونځ کول پکاردی. (۲) فقط

دعذر په وجه جمعه پرېښوول! **سوال**: (۵۱۵) ديو قوم مشر ته په لحاظ دحالاتو دسرحد او په نورو وجهو سره بيره ده چی که چيری دماښام اوماخستن اوسهار دلمانځه دپاره جومات ته ولاړ سی نوخدای مه کړه بدنی ضرر به ورته ورسيږی. نودهغه دپاره جائز دی چی دغه مذکوره لمونځونه په خپل ځای کی کوی اوکه نه؟

---

(۱). بل فی الخانية لولم يکن لمسجد منزله مؤذن فانه يذهب اليه ويؤذن فيه ويصلی ولوکان وحده لان له حقا عليه فيؤديه. (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة الخ مطلب فی احکام المسجد ج ۱ ص۲۱۷. ط.س. ج۱ ص۲۰۹. ظفير)

(۲). بل فی الخانية لولم يکن لمسجد منزله مؤذن فانه يذهب اليه ويؤذن فيه ويصلی ولوکان وحده لان له حقا عليه فيؤديه. ردالمحتار باب مايفسد الصلوة الخ مطلب فی احکام المسجد ج ۱ ص۲۱۷ ط.س. ج۱ ص۲۰۹، ظفير

جواب: په وجه دمذکور عذر جمعه پریښوول روا دی. ([1]) فقط

فرض لمونځ دبې بې سره کیدی سی؟ سوال: (۵۱۶) دخپلې بې بې سره فرض لمونځ کولی سی اوکه نه؟ اوبې بې به څومره لیرې درېږي.

جواب: که یوځای لمونځ کوی نوښځه دی وروسته ودروی ([2]).

دخولې دبدبویې مریض دی په جمعه کې نه شریکیږي، سوال: (۵۱۷) یوسړی ته دمودی راسی دخولې دبدبویې شکایت دی. ددواړو طرفو مقتدیانو ته تکلیف وی نوهغه ته په جمعه کې شریکیدل پکاردی اوکه ځان ته لمونځ کول پکاردی؟

جواب: په شامی کې دی: وکذلك الحق بعضهم من بفیه بخر اوبه جرح اورائحة الی ان قال وقوله ﷺ ولیقعد فی بیته، صریح فی ان اکل هٰذه الاشیاء عذر فی التخلف عن الجماعة ([3]). له دې نه معلومه سوه چې دغه سړی دې په جمعه کې نه شریکیږي. بیل دې ځانته لمونځ کوی. فقط.

قصداً جمعه پریښوول اودهغه ګناه سوال: (۵۱۸) څوك چې قصداً جمعه پرېږدي اوپه کور کې لمونځ اداء کوی دهغه څه حکم دی.

جواب: څوك چې بغیر دعذر څخه په جمعې پریښوولوهمیشه والی کوی هغه فاسق دی. فی البحر: لاتقبل شهادته اذاترکها استخفافًا بذلك ومجانةً اما اذا ترکها سهواً اوبتاویل ککون الامام من اهل الاهواء ولا یراعی مذهب المقتدی فلا. ([4]) فقط.

په دوهمه جمعه کې اختلاف اودهغه جواب سوال: (۵۱۹) دوهمه جمعه دمحلې په جومات کې جائزه ده که نه. که جائزه نه وی نودعدمی جواز څه دلیل دی؟ امام ابویوسف ؒ ورته جائز وایي. اودی قول ته اکثرو فقهاوو صحیح ویلی دی. ددی جواب څه دی.

جواب: دَمحلې په جومات کې دوهمه جمعه مکروه ده. قال المحقق الشامی: ولنا انه علیه الصلاة والسلام کان خرج لیصل بین قوم فعاد الی المسجد وقد صلی اهل المسجد فرجع الی منزله فجمع اهله وصلی بهم ولو جاز ذلك لما اختاروا الصلٰوة فی بیته علی الجماعة

([1]). فلاتجب (الجماعة) علی مریض الخ ولاعلی من حال بینه وبینها مطر الخ وخوف علی ماله اومن عزیم اوظالم (درمختار) یخافه علی نفسه اوماله (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الامام ج ۱ ص ۵۱۹، ط.س. ج۱ ص۵۵۵). ظفیر

([2]). وقال المرأة اذا صلت مع زوجها فی البیت ان کان قدمها بحذاء قدم الزوج لا تجوز صلاتهما بالجماعة وان کان قدماها خلف قدم الزوج جازت صلاتهما الخ. لو اقتدت به متاخرة عنه بقدمها صحت صلاتهما (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۳۵، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲). ظفیر

([3]). ردالمحتار باب مایفسد الصلوة الخ مطلب فی احکام المسجد ج ۱ ص ۲۱۹، ط.س. ج۱ ص۶۶۱. ظفیر

([4]). البحرالرائق. باب الامامة ج ۱ ص ۳۶۵، ط.س. ج۱ ص ۳۴۵ . ظفیر

فی المسجد ولان فی الاطلاق هکذا تقلیل الجماعة معنًی فانهم لا یجتمعون اذا علموا انها لاتفوتهم الخ ومثله فی البدائع وغیره. ومقتضی هذا الاستدلال کراهة التکرار فی مسجد المحلة ولو بدون اذان یؤیده مافی الظهیریة لودخل جماعة المسجد بعد ما صلی فیه اهله یصلون وحدانا وهوظاهر الروایة. ([1])

ددی روایت څخه دکراهت صحیح اوراجح کیدل معلومه سوه. ولی چی داظاهر الروایة دی. نودامام ابویوسفؒ روایت به دظاهر الروایة په مقابله کی معمول بها نه وی، اوبله دا چی کله په کراهت اوعدم کراهت کی تعارض راسی نوترجیح کراهت ته وی. کما بین فی موضعه. اوددی مسئلی زیات تحقیق دی دحضرت مولانا رشید احمد گنگوهی قدس سره رساله (القطوف الدانیه فی کراهیة الجماعة الثانیة) کی وکتل سی.

دځای دتنگوالی په وجه چی دریم سړی ځان ته لمونځ ادا کړی. نوڅه حکم دی؟ سوال:

(۵۲۰) یوسړی ځان ته په جومات کی یامیدان کی فرض لمونځ ادا کوی اودهغه سره یو مقتدی هم دی. دادواړه په داسی لوړ ځای کی دی. چی که چیری ددوی سره دریم سړی اقتداء وکړی اوورسره ودریږی. نودپرېوتلو بیره ده، په داسی حالت کی دغه دریم سړی لږ اخوا ته سو اوجلا یی لمونځ کول شروع کړه. دده لمونځ به صحیح سی اوکه نه؟

جواب: دغه دریم سړی پکاردی چی هغه دی هم ددغه امام اقتداء وکړی که څه هم دمذکوره ضرورت په وجه وروسته جلا ودریږی. اوکه وی نه کړه ځان ته یی لمونځ وکی نوبیا هم صحیح سو. ([2])

په ډیر لوی بازار کی چی جومات یووی نوهغه وخت دی څه وکړی؟ سوال: (۵۲۱) که چیری بازار دیو میل په مقدار کی لوی وی اوپه هغه کی جومات صرف یووی نوآیا دبازار پر ټولو خلګو باندی په جمعی سره لمونځ کول ضروری دی اوکه صرف دجومات پر چار چاپیره خلګو باندی.

جواب: پرټولو باندی په جمعی سره لمونځ کول سنت مؤکد دی خوچاته چی څه عذر داسی وی لکه ناجوړی یاباران یاسخته یخنی وغیره نوهغوی ته جمعه پرېښوول درست دی. ([3]) درمختار، فقط

چی جومات پرېردی اومتصل جمعه وکړی نوڅنګه ده؟ سوال: (۵۲۲) آیاپه دائمی طور سره

([1]). رد المحتار باب الامامة مطلب تکرار الجماعة ج۱ ص ۵۱۲ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳. ظفیر

([2]). وفی الفتح لو اقتدیٰ واحد باٰخر فجاء ثالث. یجذب المقتدی الخ مقتضاه ان الثالث یقتدی متاخرا ومقتضی القول بتقدم الامام انه یقوم بجنب المقتدی الاول والذی یظهر انه ینبغی للمقتدی التاخر اذا جاء ثالث الخ وهذا کله عند الامکان والا تعین الممکن. (رد المحتار باب الامامه ج ۱ ص ۵۳۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۸). ظفیر (باقی)

جومات پرینبوول اودهغه څخه پرځو لاسه فاصله باندی په خپل کورکی باقاعده دجمعی انتظام کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: داجائزنه دی اودجومات جمعه پرینبوول په دائمی طور سره معصیت دی. او اصرار پردی باندی فسق دی. قال فی الاجناس لا تقبل شهادته ([1]). شامی. فقط

په خومره مقتدیانو دَجمعی ثواب ورکول کیږی؟ سوال: (۵۲۳) دجمعی ثواب په خومره کسانو سره حاصلیږی. که صرف یوسړی دامام سره وی، نوبیابه هم ثواب وی اوکه نه؟

(۵۲۴) مقتدیان به دامام څخه په خومره فاصله باندی دریږی؟

جواب: (۱) که یومقتدی دامام سره وی نوجمعه به وسی اودجمعی ثواب به ورکول سی.

(۲) مقتدیان دی امام څخه په دومره فاصله باندی ودریږی چی بی تکلفه دهغوی سجده وسی. فقط

دواردانو په وجه چی څوک پرقرآئت اوتشهد باندی قادرنه وی هغه څه وکړی؟ سوال:

(۵۲۵) ما قولکم رحمکم الله فی رجل استولی علیه الواردات حتی لَم یقدر علی القرآءة والتشهد وخرج کلمة هل من مزید، یا الله اکبر، یا لا اله الا الله، من فمه بلا اختیار منه وامام الناس یصلی بالجماعة یَجب علیه الدخول فی صلوتهم بالجماعة او یَجب علیه الانحراف عن الجماعة عسی ان یجد وقتا یؤدی الصلوة بقرآئة تشهد ؟

جواب: یجب علیه الدخول فی الجماعة قال علیه الصلاة والسلام اذا اقیمت الصلاة فلا صلاة الا المکتوبة، وقال علیه الصلاة والسلام فعلیك بالجماعة فانما یاکل الذئب القاصیة، الحدیث، فالشیطان ذئب الانسان یسوّل له ویصدّه عن ذکر الله والمسابقة الی الخیرات، فالواردات المقبولة ما تدعوه الی اتباع السنة السنیة لا ما تمنعه عن القربات فلا ینحرف عن الجماعة ویجتهد بقدر الوسع ان یزیل تلك الواردات یاتی باوراد الصلوة فما فوت بالاختیار لا یؤاخذ به. فقط والله تعالی اعلم

مسلمان ښځی په جمعه کی شریکیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۵۲۶) مسلمان ښځیان په جومات کی په جمع سره لمونځ اداکولی سی اوکه نه ؟ اودجومات په تالابو باندی اودس اودس کولی سی اوکه نه؟

([3]). وفی البدائع تعجب الجماعة عن الرجال العقلاء البالغین الاحرارالقادرین علی الصلوة بالجماعة من غیرحرج الخ وتسقط الجماعة بلا عذر حتی لاتجب علی المریض الخ والصحیح انها تسقط بالمطر والطین والبرد الشدید والظلمة الشدیدة کذا فی التبیین. (عالمگیری مصری الباب الخامس فی الامامة ج ۱ ص ۷۷، ط. ماجدیه ج۱ ص ۸۲....۸۳). ظفیر

([1]). رد المحتار. باب الامامة ج ۱ ص ۵۱۸. ط.س. ج ۱ ص ۵۵۴. ظفیر

جواب: مسلمان بنگیان په جومات کی په جمعی سره لمونځ ادا کولی سی، او دجومات په تالابو باندی اودس کولی سی (۱) فقط، (جومات ته دراتللو په وخت کی دومره خیال دی کوی چی صفا سُتره اوپاکه جامه یی پربدن باندی وی. چی په هغه کی نه پلیتی وی اونه بدبویی. اودا دهرچا دپاره ضروری ده. والله اعلم. ظفیر)

<u>**ددوهمی جمعی دکراهت دلائل**</u>: **سوال**: (۵۲۷) ددوهمی جمعی دکراهت څه دلیل دی؟

جواب: دمقلدینو دپاره اقوال دفقهاوو اوائمه وو په طور ددلیل کافی دی. نوکله چی ظاهر الروایة عند الحنفیة کراهت ددوهمی جمعی دمحلی په جومات کی دی څنګه چی په شامی کی منقول دی نوددی څخه زیات دمقلدینودپاره هیڅ حجت نسته. په شامی کی منقول دی: ومقتضی هٰذا الاستدلال کراهة التکرار فی مسجد المحلة ولو بدون الاذان ویؤیده ما فی الظهیریة لودخل جماعة المسجد بعد ما صلی فیه اهله ویصلون وحدانًا وهو ظاهرالروایة (۲). الخ اوددی څخه څه مخکی مذکوردی چی:

ثم قال فی الاستدلال علی الامام الشافعی النافی الکراهة ما نصه ولنا انه علیه الصلاة والسلام کان خرج لیصلح بین قوم فعاد الی المسجد وقد صلی فیه اهل المسجد فرجع الی منزله فجمع اهله وصلی بهم ولو جاز ذلک لما اختار الصلاة فی بیته عن الجماعة فی المسجد ولان فی الاطلاق (ای فی تجویز الجماعة الثانیة) هکذا تقلیل الجماعة معنًی فانهم لا تفوتهم (۳).

نودحضور ﷺ دفعل څخه او دفقهاوو دتصریح څخه دمحلي په جومات کی ددوهمی جمعی کراهت ثابت سو. په دی صورة کی که چیری بعضی روایات دجوازهم وی نواول خو جواز دکراهت سره هم جمع کیږی نوهلته به جواز مع الکراهة مراد وی، غایت داچی کراهت تنزیهی به وی. بهر حال دوهمه جمعه دکراهتِ تحریمی یاتنزیهی څخه خالی نه ده. اوبله داچی کم ځای په کراهت اوعدمی کراهت کی تعارض راسی نو کراهت ته ترجیح ورکول کیږی. لان دفع المضار اولی من جلب المنافع. همدامضامین دی، کم چی حضرت مولانا ګنګوهی قدس سرہ په خپله رساله (کراهت جماعت ثانیه) کی بیان فرمایلی دی اوپه هغه کی یی دحدیث اوفقهی دهغه روایت جواب ورکړی دی، دکم څخه چی جواز

---

(۱). دنورومسلمانانو لمونځ ګذاروپه شان دوی هم دی اوڅنګه چی پرنورو عاقلو بالغو مسلمانانو باندی دجمعی شرکت واجب دی، پردوی باندی هم واجب دی. تجب الجماعة علی الرجال العقلاء البالغین الاحرار القادرین علی الصلوة بالجماعة من غیر حرج. (عالمګیری مصری باب خامس ج ۱ ص ۷۷، ط. ماجدیه ج۱ ص ۸۲).

(۲). رد المحتار، للعلامة الشامی، باب الامامة ج ۱ ص **۵۱۲**، ط.س. ج ۱ ص **۵۵۳**. ظفیر (۳). ایضًا. ظفیر

مفهومیږي. حضرت مولانا محمد قاسم صاحب نانوتوی قدس سرہ په دی باره کی یوه فیصله کوونکی خبره ارشاد فرمایلی ده. هغوی فرمایلی دی، چی ددوهمی جمعی په عدم جواز کی یودلیل ماته ظاهرسو. اویوحضرت مولانا احمد علی محدث سهارنپوری قدس سرہ ته، ځوك چی دحضرت مولانا نانوتوی ؒ استاذ دی. کم دلیل چی حضرت مولانا نانوتوی ؒ ته معلوم سو. هغه دَصلوٰة خوف قصه ده چی باوجود دداسی اړدوړ چی دجنګ موقعه ده بیا هم یوه جمعه وسوه. اودلمانځه ګذارو دوی ډلی کړل سوې، او دومره حرکات اوتګ راتګ په لمانځه کی دننه جآئز کړل سو خو ددوهمی جمعی اجازت ونه سو حالانکه دا آسانه وه چی یوه امام یوې ډلی ته پوره لمونځ ورکړی وای اوبل امام دَهغه څخه وروسته دوهمی ډلی ته پوره لمونځ په جمعی سره ورکړی وای. اووی فرمایل چی دا دلیل ظاهِرتَرْ دی، اوچونکی دالمونځ دَحضور ﷺ دزمانی سره خاص نه وو بلکی اوس هم ددغه ډول کولو حکم دی نونه سی ویل کیدی چی دا ددی دپاره وه چی ټولوته دهغه ﷺ داقتداء فضیلت حاصل سی. اوکم دلیل چی حضرت مولانا احمد علی قدس سرہ فرمایلی دی هغه دقیق دی. مولانا احمد علی صاحب ؒ فرمایلی دی چی دامسئله ده چی په کم جومات کی یووار دجمعی لمونځ سوی وی نوپه هغه جومات کی بیا دجمعی جماعت درست نه دی. همدارنګه په شامی (۱) وغیره کی تصریح ده چی دجمع څخه وروسته دی دَجامع مسجد دروازې بندی سی هسی نه چی بیا یوڅو سړی راسی اودوهمه جمعه وکړی. نوددی په وجهه کی مو چی غوروکی چی ددی عدم جواز څه وجه ده. حالانکی شرائط دجمع ټول علی حالها موجود دی. مصرهم دی، اذن عام هم سته، لمونځ ګذار هم موجود دی په یو ښارکی تعدد دجمعی هم برابر دی. بیاڅه وجه ده چی دوباره دجمع جماعت په یوجومات کی صحیح نه وی نوددی څخه ماسوا هیڅ وجه نسته چی دجمع دپاره جماعت هم شرط دی. نومعلومه سوه چی جماعت ثانیه جماعتِ مشروعه نه دی اوکله چی هغه جماعت معتبر نه سو نویو شرط دجمعی فوت سو. نومعلومه سوه چی جماعت ثانیه په یوجومات کی صحیح نه دی. وهو کما قال رحمه الله. فقط

جمعه پریښوول: سوال: (۵۲۸) که چیری یو سړی ددوو کالو څخه په جومات کی متواتر اذان کوی داذان څخه یوه ګنټه مخکی جومات ته راتلل، داذان په شوق سره یې دجومات مسافرو ته ډوډی ورکول، دَجومات دَتیلو اوبتیۍ، لوټې، ځیني وغیره اهتمام کول، دَجومات دامام سره هرقسمه امداد کول وغیره، دادَخیر کارونه یی داذان دَشوق په وجه

(۱). والظاهر انه یغلق ایضًا بعداقامة الجمعة لئلایجتمع فیه احدبعدها. (ردالمحتار باب الجمعة ج ۱ ص ۷۲۲، ط. س. ج ۲ ص ۱۵۷). ظفیر

کول. که چیری یو سړی دی دآذان کولو څخه بندکړی اوپه دغه وجه سره هغه مذکوره بالا کارونه پریږدی نو شرعًا څه حکم دی؟ مؤذن جومات ته راتلل هم پریښی دی په خپل کور کی لمونځ کوی.

جواب: داذان کولو ثواب په حدیثونوکی ډیر زیات وارد سوی دی په دی شرط چی اذان پروخت باندی اوپه صحیح طریقی سره کوی. لیکن داذان څخه زیات ثواب په جمعی سره دلمانځه کولو دی. اوددی تاکید ډیر زیات دی. نوکه چیری مؤذن مذکور په څه وجهی سره خلګو داذان کولو څخه بندکړی وی نوهغه ته جائزنه دی چی په جومات کی په جمع سره لمونځ کول هم پریږدی، داډیر بددی. (١) البته که چیری هغه مؤذن اذان صحیح کوی اوپه وخت باندی یی کوی اولوجه الله یی کوی اوپه دی شوق کی یی نور دخیر کارونه هم کول اودَجومات هرقسم خبرګیری یی کوله نوبی وجهی هغه دَاذان څخه بندول بددی. دمحلی اودَجومات خلګو ته پکاردی چی هغه دی دَاذان کولو څخه نه بندوی. لیکن که چیری په څه وجهی سره هغوی بندکړی وی نودغه مؤذن ته داګنل پکاردی چی په موجب دَحدیث شریف: انما الاعمال بالنیات، هغه ته به دَنیك نیت ثواب ورکول کیږی اوجمعه اونور دخیر کارونه پریښوول نه دی پکار. ولی چی دادکم فهمی خبره ده چی که چیری دثواب یوکار په هغه بندسو نونور کارونه دَثواب اوضروری امور شرعیه یعنی جماعت وغیره هم پریږدی. فقط

<u>**جذامی دی دجمع دشرکت دپاره جومات ته نه راځی**</u>: **سوال**: (٥٢٩) دَجذام مرض متعدی ناجوړی ده اوکه نه؟ که چیری جذامی سړی دجمعی سره لمونځ اداکول غواړی اوخلګ دَهغه څخه نفرت کوی، ددی مجبوری په حالت کی هغه ته په خپل کورکی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟ اودجمعی پریښوولو ګناه به دَچا پرذمه وی. اوداچی مشهوره ده چی جذامی ته ډوډی په نیزې باندی دورکولو حکم دی. ددی څه اصل دی؟

جواب: دجذامی دپاره حکم هم دغه دی چی هغه دی جومات ته نه راځی. اوپه جمعه کی دی نه شریکیږی اوپه کور کی دی لمونځ کوی. نودَجمعی په ترك کولوکی پرهغه باندی هیڅ ګناه نسته بلکه هغه ته حکم هم دغه دی اوپه جمعه کی شریکیدل دهغه دپاره مکروه دی اوګناه ده. درمختار (٢) . فقط

---

(١).وَالْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ لِلرِّجَالِ وَقِيلَ وَاجِبَةٌ وَعَلَيْهِ الْعَامَّةُ (در مختار) قال فی شرح المنیة والاحکام تدل علی الوجوب من ان تارکها بلا عذر یعذَر وتردَ شهادته ویاثم الجیران بالسکوت عنه ﷺ (ردالمحتار. باب الامامة ج ١ ص ٥٢٠ ، ط.س. ج ١ ص ٥٥٧). ظفیر غفرله.

(٢). ویمنع منه ای المسجد وکذا کل مؤذن (در مختار) وکذالك القصاب والسمك والمجذوم والابرص اولی =

په یوجومات کی دوه اذانه اودوی جمعی جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۵۳۰) که چیری په یو جومات کی امام حنفی وی اودځه زمانی څخه دغیر مقلدینو دډلی یو سړی هلته لمونځ کول شروع کړی. اوآمین بالجهر وغیره کوی اوموجوده امام کله کله دصحیح معنٰی په خیال وظیفه (شیئًا لله) وایی. ددی دپاره غیر مقلدینو هغه مشرك وګرزوی اوپه هغه پسی لمونځ کول یی پریښوول. خبره تردی ورسیده چی په دغه جومات کی دوه اذانه او دوې جمعی کیږی. داسی کول شرعًا جائزدی اوکه نه؟ اوزوړ امام ته مشرك ویل څه حکم لری.
جواب: دوه اذانه اودوی جمع کول په یوجومات کی جائزنه دی (۱) اومذکور امام مشرك نه دی، هغه ته مشرك ویل غلط دی. البته وظیفه: شیئًا لله دغه امام ته پریښوول پکار دی، ځکه چی داوظیفه جائز نه ده. (۲) اوامام ته دداسی مشتبه امورو څخه احتراز کول پکار دی. فقط

چی صرف ماشومان مقتدیان وی نوهم جمعه کیږی: سوال: (۵۳۱) کله چی بالغ مقتدیان پیدانه سی نوصرف دماشومانو په مقتدیانو جوړیدلو سره به دجمعی ثواب ورکول کیږی اوکه نه؟
جواب: که چیری مقتدی بالغ هیڅوك نه وی نوصرف دماشومانو په مقتدیان جوړولو سره به دجمعی ثواب ورکول سی. (۳) فقط

څوك چی اذان آوری بیاهم جومات ته نه راځی دهغه لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟ سوال: (۵۳۲) که چیری دمحلی یوسړی اذان اوری اوجومات ته نه راځی اوپه جمع کی نه شریکیږی په کورکی لمونځ کوی نودهغه دپاره څه حکم دی اودَهغه لمونځ کیږی اوکه نه؟ **جواب**: په جمعی سره لمونځ کول واجب دی ددی پریښوونکی فاسق دی. دَمحلی خلګوته پکاردی چی هغه ته په جمعی سره دلمانځه کولو تاکید وکړی کنه هغوی به هم ګنهګار وی قصداً جمعه پریښوونکی ته سزا ورکول کیږی او دهغه شاهدی معتبره نه ده (۴) لیکن دهغه لمونځ صحیح کیږی دقضا راګرزولو ضرورت یی نسته. (۵) فقط

= بالالحاق (ردالمحتار. باب ما یفسد الصلوة وما یکره مطلب فی احکام المسجدج ۱ ص ۲۱۹، ط.س. ج ۱ ص ۲۲۱). ظفیر
(۱). اهل المسجد اذا صلوا باذان وجماعة یکره تکرار الاذان والجماعة فیه (عالمگیری. الباب الثانی فی الاذان ج ۱ ص ۵۱ ، ط. ماجدیه ج ۱ ص ۵۴). ظفیر
(۲). وګوری مائة مسائل دحضرت شاه اسحٰق ډهلوی".
(۳). وتحصیل فضیلة الجماعة بصلوته مع واحد (ای من الصبیان) الا فی الجمعة فلا تصح بثلاثة منهم. (الاشباه والنظائر احکام الصبیان ص ۴۸۰). ظفیر

(پاته حواشی په آینده صفحه کی وګورئ)

په کور کې دښځو سره جمعه ادهغه ثواب: **سوال**: (**۵۳۳**) په کور کې دښځو سره جمعه کول جائز دي اوکه نه؟ دبهشتي زيور په حصه کې دي چې سړی ته صرف دښځو امامت په داسې ځای کې مکروه تحريمي دی کم ځای چې هيڅ يوسړی نه وي، نه ئوك محرمه ښځه لکه مور خوروي، که چيری ئوك سړی يامحرمه ښځه وي نوبيا مکروهه نه ده. که بعضي ئوك داسې جمعه سنت وګڼي اودخپلې بي بي يامحرمي سره جمعه وکړي نو دجمعې ترك کولو دوعيد ځخه خلاصيدی سی اوکه نه؟ اوکه چيری په کور کې جمعه سنت وي نوپه يوحديث کې چې داسبابو اوکورونو سوزولو اراده چې رسول الله ﷺ فرمايلې وه، داولې ده؟ غرض داچې بعضې خلګ په کورکې جمع سنت موکده ګڼي اواداء کوي يې نوځه حکم دي؟

جواب: دښځو ځان ته جمعه مکروه تحريمي ده. لهٰذا ښځې دې جمعه نه کوي يعنې په داسې شان چې امام هم ښځه وي داسې جمعه دې نه کوي.

ويکره تحريمًا جماعة النساء الخ كما تكره امامة الرجل لهن في بيت ليس معه رجل غيره ولامحرم منه كاختة وزوجته (۱) الخ ترجمه: ددې هم هغه ده کمه چې دبهشتي زيور حصه ۱۱ ځخه يې مسئله نقل کړيده، پس داهم صحيح ده. نوکه چيری په جومات کې جمع ونه سي نوپه داسې کولو سره دترك جماعت عذاب ځخه خلاصيدی سی. الغرض اصل دادی چې جومات ته دې ځي اوپه جمعه کې دې شريکيږي. که چيری کله اتفاقًا په جومات کې جمعه نه ونيسي نوپه کورکې دې ښځې اوماشومان شامل کړي، اوجمع دې وکړي ځنګه چې په درمختارکې دي. اودحديث احراقِ بيوت ځخه ثابتيږي چې سړيوته بغير دعذره په کورکې جمعه کول نه دي پکار، بلکه جومات ته دې راځي، اوپه جمع کې دې شريکيږي اوکه چيری کله په اتفاق سره جمعه نه وسوه نوپه صورة مذکوره سره دې په کورکې جمعه وکړي. دانه چې دَجومات جمعه پريښوول اودکورونو کې جمعه کول سنت دي. داسې نه

(۴). فتسن اوتجب ثمرته تظهر في الاثم بتركها مرة على الرجال العقلاء البالغين الاحرار القادرين على الصلاة بالجماعة من غير حرج ولو فاتته ندب طلبها في مسجد اخر الا المسجد الحرام ونحوه (در مختار) قال في النهر الا ان هٰذا يقتضي الاتفاق على ان تركهامرة بلاعذر يعزر وترد شهادته ويأثم الجيران بالسكون عنه (رد المحتار. باب الامامة ص ۵۲۰، ۵۲۱ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص**۵۵۴**، **۵۵۵**). ظفير

(۵). په دې سلسله کې دا حديث مشهور دی، لاصلوة لجار المسجد الا في المسجد. دَجومات دخوا اوشا اوسيدونکې که بغير دَشرعي عذر ځخه په جمعې سره لمونځ نه ادا کوي نودهغه لمونځ اداکيږي. داپه طور دتهديد (زورنې) دی. بيا داحديث ضعيف هم دی. ددې دپاره وګوری شرح سفر السعادة، خاتمه ص **۵۳۵** والله اعلم، ظفير

(۱). الدرالمختار هامش ردالمحتار. باب الامامة ص **۵۲۸** ج ۱ وص **۵۲۹** ، ط. س. ج ۱ ص **۵۲۵**. ظفير

ده. دغه رکم شامي داواقعه ليکلی ده چي يووار حضرت نبی ﷺ په يوقوم کی دصلح کولو دپاره تشريف وړی وو چي جومات ته راغی نوجمعه سوی وه. هغه وخت هغوی په خپل کور کی اهل اوعيال راجمع کړل اوپه جمعی سره يی لمونځ ادا وفرمايي (١) ددی څخه داهم ثابته سوه چي په کور کی جمع کول په داسی حالت کی دی چي په جومات کی جمع ونه ونيسی. فقط

دامام دعداوت په وجه جمعه ترک کول نه دی پکار: **سوال**: (٥٣٤) مؤذن دچاچی دااعتراض دی. چي دپيش امام زما سره عداوت دی. په همدی وجه په امام پسی لمونځ نه کوی، هميشه ځان ته لمونځ کوی، دهغه لمونځ صحيح کيږی اوکه نه؟ اودهغه اذان مکروه دی اوکه نه؟

جواب: داعذر دجمعی پريښوولو شرعًا خطا اوغلط دی اودجمعی پريښوولو عادت جوړول اوهميشه جمعه ترك کول موجب دفسق اومعصيت دی اودَفاسق اذان مکروه دی. اودهغه اعاده مستحب ده. ويعاد اذان جنب الخ درمختار. زادالقهستانی والفاجر والراكب والقاعد الخ شامی (٢).

(که څه هم دهغه لمونځ کم چي ځانته کوی جائز کيږی، خودجمعی دثواب څخه محرومه پاته کيږی. اودجمعی دپريښوولو په وجه ګنهګار دی. ظفير)

ددين علم ښوولو وخت کی جمعه پريښوول درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (٥٣٥) که چيری زيد ددين دعلم درس ورکوی نودماخستن جمعه ترك کيږی. په دی صورة کی څه حکم دی.

جواب: په درمختارکی منقول دی چي دفقهي دعلم په حاصلولو اومطالعه کی مشغوله کيدل بعضو علماوو دجمعی ترك کولو عذر ګرزولی دی يعنی من جمله دهغه عذرونو څخه دکمو په وجهی سره چي ترك جماعت احيانًا وسی نوهيڅ حرج نسته. مشغولتيا دعلم فقهي ده. ليکن که په جمعی ترك کولو باندی هميشه والی کوی نومعذوره نه دی، بلکی واجب التعزير دی. (٣)

---

(١). حديث احراق دادی: عن ابی هريرة رضي الله عنه قا ل قا ل رسول الله ﷺ والذي نفسي بيده لقد هممت أن آمر بحطب فيحطب ثم آمر بالصلاة فيؤذن لها ثم آمر رجلا فيؤم الناس ثم أخالف إلى رجا ل. وفي رواية: لا يشهدون الصلاة فأحرق عليهم بيوتهم الخ رواه البخاري ولمسلم نحوه (مشكوٰة باب الجماعت وفضلها فصل اول ص ٩٥). ظفير
ولنا انه عليه الصلاة والسلام كان خرج ليصلح بين قوم فعاد الى المسجد وقدصلى اهل المسجدفرجع الى منزله فجمع اهله وصلى، ولو جاز ذلك لما اختار الصلوة فی بيته على الجماعة فی المسجد الخ (ردالمحتار باب الامامة ج ١ ص ٥١٨، ط.س. ج١ ص ٥٥٣). ظفير
(٢). رد المحتار باب الاذان ج ١ ص ٣٦٥ ، ط. س. ج ١ ص ٣٩٣. ظفير
(٣). فلاتجب (الجماعة) على مريض الخ وكذا اشتغاله بالفقه لابغيره كذا جزم به الباقانی تبعا للبهنسی ای الا اذا=

ددوهمی جمعی دجواز دپاره دامام او مؤذن دعدمی تعیین شرط او دهغه حیثیت: سوال:
(۵۳۲) فقهاوو چی دافرمایلی دی چی جماعتِ ثانی په جومات قارعة الطریق (دلاری دغاړی مسجد) کی جائز دی اوددی یی داتعریف کړی دی، چی کم ځای امام اومؤذن معین نه وی. ددی تعریف پربنا باندی به نن صبا په اکثرو ځایونو کی هیڅ یوداسی جومات راونه وزی چی څوك امام اومؤذن معین نه وی، لهٰذا جماعتِ ثانی به ګرسره جائز نه وی. اوپه اکثرو کلیوکی امام اومؤذن معتین نه وی نو ددی تعریف څخه لازمیږی چی هلته دی په هرجومات کی دوهمه جمعه جائزوی. ماته داشبهه ده چی داتعریف هغه ډول تعریف خوبه نه وی لکه څنګه چی دمصر تعریف دی. چی دخپلی زمانی په اعتبار سره یی فقهاوو تعریف وکی.
جواب: داقاعده کلیه دفقهاوو ده چی په کم جمات کی امام اومؤذن مقرروی هلته دوهمه جمعه مکروه ده برابره خبره ده که هغه دښار جوماتونه وی اوکه دکلیو. پس اشکال هیڅ نسته. دهمدی قاعدی مطابق دی عمل وسی. (۱) فقط
په یو جمات کی دوی جمعی: سوال: (۵۳۷) دلته جومات ته دروژه مات دپاره ډوډی راوړل کیږی. دماښام داذان سره روژه ماته کړی اوخوراك شروع کړی چی په هغه کی اکثره خلګ خولاندی کښینی اوروژه ماته کړی. داذان کیدلو څخه وروسته دلسو دقیقو وقفی څخه وروسته جمعه دریږی. اوبعضی حضرات پرچت باندی روژه ماته کړی. هر لمونځ ګذار په اطمینان سره دروژه مات څخه فارغه سی او په جمع کی شامل سی. خو

= واظب تکاسلا فلا یعذر ویعزر ولو باخذ المال یعنی بحبسه عنه مدة ولا تقبل شهادته (الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۰، ط. س. ج ۱ ص ۵۵۵). ظفیر

(۱). ویکره تکرار الجماعة باذان واقامة فی مسجد محلة لا فی مسجد طریق اومسجد لا امام له ولا یؤذن (درمختار) قوله یکره تحریمًا لقول الکافی لا یجوز والمجمع لا یباح، وشرح الجامع الصغیر انه بدعة کما فی رسالة السندی ☪، قوله باذان ﷺ عبارته فی الخزائن اجمع مما هنا ونصها: ویکره تکرار الجماعة فی مسجد محلة باذان واقامة الا اذا صلی بهما فیه او لا غیر اهله او اهله بمخافة الاذان ولو کرر اهله بدونها اوکان مسجد طریق جاز اجماعًا کما فی مسجد لیس له امام ولا مؤذن ویصلی والناس فیه فوجا ﷺ والمراد بمسجد المحلة ما له امام وجماعة معلومون ﷺ ومقتضی هذا الاستدلال کراهة التکرار فی مسجد المحلة ولو بدون الاذان (رد المحتار باب الامامة مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد ج۱ ص۵۱۲، ط.س. ج۱ ص۵۵۲) الا فی مسجد علی طریق فلاباس بذلك) (در مختار) هو مالیس له امام وموذن، راتب (رد المحتار باب الاذان ج۱ ص ۳۲۷، ط.س. ج۱ ص ۳۹۵). ظفیر

☪ رسالة السندی، دعلامه سندی رحمه الله دارساله په عربی ژبه کی اوترننه پوری مخطوطه وه، موږ ته یی یوه نسخه په لاس راغله او دفتاوی دهمدی جلد په پای کی به انشآء الله دتحقیق اوتعلیق سره وړاندی کړل سی. محمد احمد الحقانی

دچت والا حضرات په جمعه کی نه شاملیږی. کله چی لاندی جمعه تیره سی نودچت والا حضرات دوهمه جمعه کوی. داجائز دی اوکه نه؟

جواب: ښه داده چی په اوله جمعه کی شامل سی اودجمع کیدلو په وخت کی دی په خوراك اوچښاك کی نه مشغولیږی. اِلاَّ بضرورة. اولاندی خلگو ته داپکاردی چی لږ نوره وقفه وکړی دپاره ددی چی ټول خلگ په اطمینان سره څه خوراك وکړی او په جمعه کی شامل سی. (١) فقط

دیوه لمونځ گذار انتظار څنګه دی؟ سوال: (۵۳۸) یوسړی دی چی دهغه دشپی اوورځی اکثره حصه په جومات کی تیریږی، که چیری کله کله هغه دلمانځه په وخت کی دجومات څخه دباندی خپله رانه سی (اوپه جومات کی لمونځ دگړی په حساب سره پرمقرر وخت باندی کیږی) اوټول خلگ جومات ته راغلل اودلمانځه مقرروخت هم سونوآیا ددغه سړی داذان څخه ماسوا دوهم وار بیا خبرول پکاردی اوکه نه؟ اودهغه په انتظار کی په جمعه کی تاخیر کول درست دی اوکه نه؟ اوپه دی تاخیر سره به په جمعه کی څه قسم کراهت رازی اوکه نه؟

جواب: په دوباره خبرولوکی په صورة مذکوره کی هیڅ حرج نسته. اوکه چیری دهغه یا دبل چاپه وجهی سره په جمعه کی دومره اندازه تاخیر وسی چی وخت مکروه نه سی او نورو لمونځ گذاروته تکلیف نه وی نوپه دی کی هم هیڅ حرج نسته. (٢)

که دجمعی په وخت کی څوک سنت کوی نوامام یی انتظار وکی اوکه نه؟ سوال: (۵۳۹) دماپښین لمونځ پردوی بجی کیږی. دوو بجوته دری منټه پاته وه چی یوسړی دماپښین دسنتو نیت وتړی. په دریم رکعات کی دوی بجی سوی. په دی صورة کی آیا امام ته ددومره تاخیر کولو اجازه سته اوکه نه چی هغه سړی څلور رکعاته پوره کړی؟

جواب: دغومره اجازه سته. (٣)

دعذر په وجه دجمعی پریښوولو گنجائش سته اوکه نه؟ سوال: (۵۴۰) دزید دکورسره متصل یوجومات دی چی په هغه کی پنځه وخته اذان کیږی اوبعضی وخت په جومات کی دښکنځلو کولو نوبت هم راسی دجمعی قائمونکی خلگ دجومات داحترام مطلق خیال نه کوی. زید تعلیم یافته دمسائلو څخه خبردی. لیکن جومات ته په جمعی سره

---

(١). ویکره تکرار الجماعة فی مسجد محلة (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارباب الامامة ج١ ص۵١٢، ط.س. ج١ ص۵۵٢). ظفیر

(٢). والتثویب حسنٌ عندالمتاخرین وینتظر المؤذن الناس الخ عالمگیریه ج ١ ص ۵۴، ط. ماجدیه ج١ ص۵٢.

(٣). ایضًا (مخکنی حواله).

دلمونځ ادا کولو دپاره نه ځی. دزید دطرفه څخه په وخت داعتراض داجواب ورکول کیږی. چی چونکی دجومات داحترام اوآدابو خیال نه ساتل کیږی اویو دتفریح ځای یی مقرر کړی دی. په پوهولو سره هم خلګ دخپلو حرکتونو څخه نه منع کیږی. په دی وجه زه په کور کی لمونځ کول ښه ګڼم. بعضی خلګ وایی چی جمع پریښوونکی ته دخپلی مورسره دزنا کولو دومره ګناه ورکول کیږی آیا داصحیح ده؟ یا دداسی سړی ګرسره لمونځ نه کیږی؟

جواب: دزید نیت که چیری خالص وی اوپه حقیقت کی هغه دمذکوره وجوهو په وجه لمونځ په کور کی کوی نوممکنه ده چی عند الله دجماعت دمؤاخذی څخه خلاص سی. په هرحال احتیاط په همدی کی دی چی په جومات کی په جمع سره لمونځ کوی. اودبعضو خلګو داوینا چی دجمعی پریښوولو ګناه داسی ده لکه چی دخپلی مور سره زنا وکړی نو داغلطه ده. بی عذره جمعه پریښوونکی ګنهګاریږی اولمونځ یی صحیح کیږی. اوکه چیری یوصحیح عذر وی یا امام مبتدع اوفاسق وی نوبیا به په جمعی پریښولو سره نه ګنهګاریږی. که څه هم په جمع کی شرکت ښه دی. ([1]) فقط

جائز نه دی: **سوال**: (۵۴۱) یو سړی دډیری مودی راهیسی دجومات امام دی. هیڅ کار خلافِ شریعت نه کوی نوکم سړی چی په دغه امام پسی لمونځ نه کوی په سبب دتکبر چی زه ددی عالم امام څخه ښه یم، علم خو زما زیات نه دی، خوزما اعمال دمسجد دامام څخه ښه دی یعنی ماتحیة المسجد هیڅکله نه دی پریښی، اوامام څوواره پریښی دی. اوزه نوافل زیات اداء کوم، نودغه سړی جمعه پریږدی اوځانته لمونځ کوی؟

جواب: مذکوره سړی ته جمعه ترك کول په وجه مذکوره سره درست نه دی اوعذر دهغه غلط دی اوپه شامی کی دی چی بغیر عذره جمعه ترك کونکی ته به سزا ورکول کیږی. اودهغه شاهدی مردود ده: کما نقل عن شرح المنية والاحكام تدل على الوجوب من ان تاركها بلا عذر يعزر وترد شهادته ([2]) الخ. فقط

دښځو دلمانځه دپاره عید ګاه ته تلل؟ **سوال**: (۵۴۲) ښځو ته دسړیو په شان عیدګاه ته دلمانځه دپاره تلل درست دی اوکه نه؟

([1]). فتسن او تجب ﷺ على الرجال العقلاء البالغين الاحرار القادرين على الصلاة بالجماعة من غير حرج (در مختار) فبالحرج يرتفع الاثم ويرخص في تركها ﷺ في نور الايضاح وانقطع عن الجماعة العذر من اعذارها وكانت نيته حضورها يصحل له ثوابها صلى خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة (در مختار) افاد ان الصلاة خلفهما اولى من الانفراد. ردالمحتار. باب الامامة ج۱ ص ۵۱۸، ط.س. ج۱ ص ۵۵۴. ظفير

([2]). رد المحتار، باب الامامة ج ۱ ص ۵۱۲، ط. س. ج ۱ ص ۵۵۲. ظفير

جواب: په دی زمانه کی بلکه ډېر مخکی څخه دښځو په جمعه کی دشریکیدلو دپاره جومات اوعیدګاه ته تلل ممنوع اومکروه دی. دصحابه وو ﷺ په زمانه کی دامنع سوی وه. کما ورد فی الاحادیث (۱) په درمختار کی دی: ویکره حضورهن الجماعة ولو لجمعة وعید ووعظ. الخ (۲)

ازواج مطهرات به په جمع کی شریکیدلی اوکه نه؟ سوال: (۵۴۳) ازواجو مطهراتو رضی الله عنهن او

دخواصو صحابه وو ﷺ مستوراتو به پنځه وخته په جماعت اوجمعی اواخترونو کی شرکت کوی اوکه نه؟

جواب: درسول الله ﷺ په زمانه کی به ښځی په پنجګانه لمونځ اوجمعی اواخترونو کی حاضریدلی خوداسی نه لکه څنګه چی به سړی په پابندی سره حاضریدل اودحجاب آیت دنازلیدلو څخه وروسته په دی کی زیاته تنګی وسوه حتّی چی حضرت عمر رضی الله عنه ښځی په جومات کی دلمونځ کولو څخه بندی کړی نوښځو دحضرت عائشی رضی الله عنها په خدمت کی شکایت وکی چی رسول الله ﷺ اجازه فرمایلی ده، اوعمر رضی الله عنه یی منع کوی نوحضرت عائشی رضی الله عنها دښځو حمایت ونه کی بلکی دحضرت عمر رضی الله عنه تائید یی وفرمایی. او وی فرمایل چی که چیری رسول الله ﷺ دښځودحالت مشاهده فرمایلی وای کم چی اوس ددوی حالت دی نوضرور به یی دوی منع فرمایلی وای. (۳) فقط

په دوهمه جمعه کی شرکت وسی اوکه نه؟ سوال: (۵۴۴) دوهمه جمعه مکروه ده، که چیری بنده دمحلی جومات ته ورسیږی اودوهمه جمعه تیاره وی یاولاړه وی نوشریك سی یابل جومات ته چیری چی دجمعی سره دشریکیدلو ګمان وی ولاړ سی ؟

جواب: بل جومات ته دی ولاړسی. یاکه کیدی سی نودنورو خلګو سره دی په بل یو ځای کی جمعه وکړی. (۴) فقط

---

(۱). وګوری مسلم شریف باب خروج النساء الی المساجد ج ۱ ص ۱۸۳. ومشکوٰة باب الجماعة.

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ج۱ ص ۵۲۹ ،ط. س. ج ۱ ص ۵۶۶. ظفیر

(۳). عن عمرة بنت عبدالرحمٰن انها سمعت عائشة زوج النبی ﷺ تقول لو ان رسول الله ﷺ رای ما احدث النساء لمنعهن المسجدکمامنعت نساءبنی اسرائیل قال فقلت لعمرة انساء بنی اسرائیل صنعن المسجد قالت نعم (مسلم باب خروج النساء الی المساجد ج۱ ص۱۸۳).

(٤). وَإِذَا فَاتَتْهُ الْجَمَاعَةُ لا يَجِبُ عَلَيْهِ الطلَبُ فِي مَسْجِدٍ آخَرَ بِلاَ خِلاَفٍ بَيْنَ أَصْحَابِنَا لَكِنْ إنْ أَتَى مَسْجِدًا آخَرَ لِيُصَلِّيَ بِهِمْ مَعَ الْجَمَاعَةِ فَحَسَنٌ وَإِنْ صَلى فِي مَسْجِدِ حَيِّهِ فَحَسَنٌ وَذَكَرَ الْقُدُورِيُّ أَنَّهُ يَجْمَعُ فِي أَهْلِهِ وَيُصَلِّي بِهِمْ. (عالمګیری مصری. فصل فی الامامة ص ۷۷ ج۱، ط. ماجدیه ج۱ ص ۸۲، ۸۳). ظفیر

دتكبير اولى وخت دكم ځاى څخه تركم ځاى پورى دى؟ سوال: (۵۴۵) دتكبير اولى ثواب تر كله پورى وى؟ **جواب**: داولنى ركعات تر ركوع پورى دشامليدلوسره به دتكبير اولى ثواب حاصل سى. كمافى الشامى:وقيل بادراك الركعة الاولى وهذا اوسع وهوالصحيح. ([1]) شامى ص ۳۵۳، جلد اول.

داعادى په جمعه كى په شريكيدلو سره فرض كولى سى اوكه نه؟ سوال: (۵۴۶) كه چيرى لمونځ دجمعى سره اداء سو اوپه لمانځه كى څه داسى غلطى وسوه چى په هغې سره دلمانځه داعادى ضرورت سو. اوس چى كم لمونځ دوباره كول كيږى په هغه كى نوى لمونځ گذار شريكيدلى سى اوخپل لمونځ اداء كولى سى اوكه نه ؟

جواب: كه چيرى په مخكى واركى لمونځ بالكل نه وو سوى مثلاً باطل سوى وو نود نوو لمونځ گذارو لمونځ داعادى په وخت كى اداء سو. اوكه چيرى ديوواجب په ترك سره دلمانځه اعاده واجب وه نودنوو لمونځ گذارو لمونځ به نه صحيح كيږى. ([2]) فقط

په كم ځاى كى چى امام اومؤذن متعين نه وى هلته دوهمه جمعه جائز ده اوكه نه؟ سوال: (۵۴۷) ددى ځاى په جوماتونوكى عمومًا نه خودجمعى دلمانځه وختونه مقرر دى نه امام اومؤذن. صرف دماښام په وخت كى څه سړى راسى نو په دى جوماتونو كى دوهمه جمعه جائز ده اوكه نه ؟

جواب: په داسى جمات كى په كم كى چى امام اومؤذن اوجماعت مُعيّن نه وى نودوهمه جمعه جائز ده. ([3]) فقط

دبدعتيانو په مخالفت سره به دمخكى امام په جماعت كى هيڅ فرق نه راځى: سوال: (۵۴۸) كه چيرى يوسړى دپنځلسو ياشلو كالو راهيسى په يوجمات كى امام وى بعضى خلگ ددغه امام سره دنفسانيت په غرض يادعقائدو داختلاف په وجه دغه امام ايستل غواړى حالانكه امام متبع سنت دى، اودغه ډله دبدعتيانو څخه وى اوماسوا ددغه ډلى څخه نور ټول مقتديان په امام رضامند وى او دبدعتيانو ډله دضد په وجه يوهم خيال امام ودروى اودمخكنى امام په ځاى باندى جمعه كوى، وروسته دهغه څخه مخكنى

([1]). ردالمحتار. باب صفة الصلوة مطلب فى وقت ادراك فضيلة الافتتاح ج۱ ص۴۹۱، ط.س. ج۱ ص۵۲۲.ظفير

([2]). والمختار انه جابر للاول لان الفرض لايتكرر (درمختار) اى الفعل الثانى جابر للاول بمنزلة الجبر بسجود السهود وبالاول يخرج عن العهدة وان كان على وجه الكراهة على الاصح كذا فى شرح الاكمل على اصول البزدوى. (ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة ج۱ ص۴۲۲، ط.س. ج۱ ص ۴۵۷). ظفير

([3]). ويكره تكرار الجماعة باذان واقامة فى مسجد محلة لا فى مسجد طريق اومسجد لا امام له ولا مؤذن (الدر المختار على هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۱۲ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۲). ظفير

امام جمعه ورکوی نودمخکی امام لمونځ درست وی اوکه نه؟ که چیری په یو وخت کی نوی امام اوزوړ امام په جهری قرآئت سره جمع کوی نوکم لمونځ صحیح کیږی اوکم نه ؟

جواب: دامام سابق جماعت بغیر کراهته درست دی، هغه جماعت ثانیه نه دی بلکه دبی اتفاقی ګناه دبدعتیانو پردغه فرقی باندی ده، اودهغوی پرامام باندی ده اودهغوی جمع معتبره نه ده او ددواړو جمعو په یووخت کیدلوکی هم ګناه ده، پرنوی امام اوبدعتیانو مقتدیانو باندی ده. دزوړ امام په جمعه کی هیڅ کراهت نسته. (۱) فقط

دوهمه جمعه جائزه ده او که نه او دجمعی کیدلو ځخه وروسته په جومات کی جلا جلا لمونځ ښه دی یاپه کورکی په جمعی سره؟

سوال: (۵۴۹) په جومات کی دوهمه جمعه کول جائزدی اوکه نه؟ اودجمعی کیدلو ځخه وروسته ځان ځان ته په جومات کی لمونځ ادا کول ښه دی اوکه په ځنګل یاکورکی په جمعی سره اداء کول ښه دی؟ اوپه ځنګل یا په کورکی اذان اوتکبیر ویل ښه دی اوکه نه؟ او دجومات پرچت باندی یادجومات په تالابو باندی یاکمه کوټګی چی دجومات ځخه دباندی ده په هغه کی دوهمه جمعه کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: په کور یا ځنګل کی په جمعی سره لمونځ کول ښه دی. په ځنګل یاکور کی اذان اوتکبیر ویل ښه دی. صرف تکبیر ویل هم کافی دی. که په کورکی کوی نو ددغه محلی په جومات کی چی کم اذان سوی دی هم هغه کافی دی صرف تکبیر دی ووایی. دفرش په مینځ کی چی کم تالاب دی یا دجومات بام اوچت، داټول دجومات په حکم کی دی. هغه کوټه ګی وغیره چی دباندی ده په هغه کی دوهمه جمعه جائزده. (۲) فقط

دامام راتللو ځخه مخکی چی کم سړی لمونځ وکی هغه دجمعی په حکم کی نه دی:

سوال: (۵۵۰) دیوجومات امام دسهار په وخت کی ناوخته راځی. یو مقتدی وختی راځی اوهغه په لمانځه کی په جهر سره قرآئة وایی اویو جاهل لمونځ ګذار ددغه مقتدی سره نه شاملیږی بلکی دامام انتظار کوی دافعل دهغه جائز دی اوکه نه؟

---

(۱). ولوصلی بعض اهل المسجد باقامة وجماعة ثم دخل المؤذن والامام وبقية الجماعة فالجماعة المستحبة لهم والكراهة للاولى كذافى المضمرات، عالمګیری مصری باب ثانی فی الاذان ص۵۱ ج۱، ط ماجدیه ج۱ ص۵۴). ظفیر

(۲). قا ل علیه الصلاة والسلام صلوة الجماعة تفضل صلوة الفذ بسبع وعشرين درجة، مشكوٰة ص ۹۵ ثم لهما سنة للصلوات الخمس اداءً اوقضاءً اذا صليت بجماعة، کبیری ص ۳۵۷، وَلَا يُكْرَهُ تَرْكُهُمَا لِمَنْ يُصَلِّي فِي الْمِصْرِ إذَا وُجِدَ فِي الْمَحَلَّة وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْوَاحِد وَالْجَمَاعَة. وَالافضَلُ أَنْ يُصَلِّيَ بِالأَذَانِ وَالإِقَامَة وَإِذَا لَمْ يُؤَذِّنْ فِى تِلْكَ الْمَحَلَّة يُكْرَهُ لَهُ تَرْكُهُمَا وَلَوْ تَرَكَ الْأَذَانَ وَحْدَهُ لا يُكْرَهُ وَلَوْ تَرَكَ الإِقَامَةَ يُكْرَهُ وَيُكْرَهُ لِلْمُسَافِرِ تَرْكُهُمَا وَإِنْ كَانَ وَحْدَهُ وَلَوْ تَرَكَ الإِقَامَةَ أَجْزَأَهُ وَلَكِنَّهُ يُكْرَهُ فَإِنْ أَذَّنَ وَأَقَامَ فَهُوَ حَسَنٌ. عالمګیری ص ۵۲ مطبوعه هند، ماجدیه ج۱ ص۵۴.

جواب: جماعتِ اولی هم هغه وی کم چی دمحلی امام دمحلی دخلګو سره اداء کوی نو دغه جاهل لمونځ ګذار ته دمحلی دامام دجمعی انتظار کول پکاردی. ([1]) فقط

مقرر امام چی دمقتدی نه راتلو په وجه ځانته لمونځ وکړی نوځه حکم دی؟ سوال: (۵۵۱) یوجومات چی دآبادی څخه پرفاصله باندی دی، اوپه دی وجه په دغه جومات کی اکثره جمعه نه کیږی نوآیا پرخالد باندی (چی مقررامام دی) په دی صورة کی هلته لمونځ کول سره دجمعی پرترك کولو څه ګناه خوبه نه وی؟

جواب: په دی صورة کی دجمعی ترك کولوګناه پر خالد باندی نسته بلکی کله چی څوك رانه سی نوخالد دی داذان اواقامت کولو څخه وروسته ځان ته لمونځ کوی، په دی کی به دجمعی ثواب هغه ته حاصلیږی، اودجومات حق به هم اداء کیږی. ([2]) فقط

دیوی جمعی په وخت کی بله جمعه جائز ده اوکه نه؟ سوال: (۵۵۲) په جومات کی کله چی داهلِ حدیثو جمع کیږی اولمونځ هم جهری وی په دغه وخت کی حنفیانو ته بله جمعه کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: غیر مقلد امام جوړول نه دی پکار، اوکه جوړ سو نولمونځ په هغه پسی صحیح دی خواحتمال دکراهت اوفساد سته. بیله جمعه په همدغه جومات کی نه دی کول پکار، که چیری بیله جمعه کوی نوبل ځای دی وکړی. ([3]) فقط

چاته چی جمعه ورپیدا نه سوه هغه دی کم ځای لمونځ وکړی؟ سوال: (۵۵۳) کم منفرد ته چی لمونځ دجمعی سره ورپیدانه سوهغه ته په جمات کی خپل فرض کول ښه دی اوکه په کورکی؟

جواب: که چیری دجومات څخه دباندی جمعه کیدی سی نودابنه ده. ([1]) کنی دفرائضو دپاره جومات ښه دی. فی روایة انس ان اصحاب رسول الله ﷺ کانوا اذافاتتهم الجماعة فی المسجد صلوا فی المسجد فرادی. ([2]) الخ شامی.

([1]). لوصلی بعض اهل المسجدباقامة وجماعة ثم دخل المؤذن والامام وبقیة الجماعة فالجماعة المستحبة لهم والکراهة للاولی. (عالمګیری مصری. باب الاذان ص ۵۱ ج ۱، ط: ماجدیه ج۱ ص۵۴).

([2]). بل فی الخانیة لولم یکن لمسجد منزله مؤذن فانه یذهب الیه ویؤذن فیه ویصلی ولوکان وحده لان له حقا علیه فیؤدیه (رد المحتار. باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها، مطلب فی احکام المسجد ص ۲۱۷ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۲۵۹). ظفیر

([3]). په اصل کی دَمتعین امام دجمعی اعتبار دی: ولوصلی بعض اهل المسجد باقامة وجماعة ثم دخل المؤذن والامام وبقیة الجماعة فالجماعة المستحبة لهم والکراهة للاولی کذافی المضمرات (عالمګیری مصری باب ثانی اذان ص ۵۱ ج ۱ ط: ماجدیه ج۱ ص۵۴) (ددوهم ځل ۱ او ۲ حاشیه په وروسته صفحه کی وګورئ)

دچا شخه چی په امن او امان کی دخلل یافساد اندیښنه وی، هغه دجمعی شخه بندول څنګه دی؟ **سوال:** (۵۵۴) که چیری دیوه لمانځه ګذار په ذریعه په حفظ اوامن کی خلل واقع کیږی اودشر اوفساد اندیښنه وی یاعامو لمونځ ګذاروته یو قسم تکلیف اواذیت رسیږی، نوداسی سړی په غرض دحفظِ امن اودانسداد دشر اوفساد دجمعی شخه بندول آیا دشریعت شخه خلاف دی؟

جواب: کم سړی چی په حفظ اوامن کی خلل اچوی اوباعث دشر اوفساد وی اوعامو لمونځ ګذاروته تکلیف اوضرر رسونکی وی اودهغه فعل داشتغال سبب وی هغه دجمعی شخه بندل دشریعت دقانون مطابق دی. حدیثونه اوآثار اواقوال دفقهاوو پردی باندی صفا دلالت کوی. رسول کریم ﷺ اومه اوږه، پیاز خوړونکی دجومات شخه بندکړی دی، بلكi دجومات شخه یی ایستلی دی دغه رکم هغوی ٔ هغه ښځی چی خوشبویی یی لګولی وی جومات ته دراتللوشخه دفتنی دبیری شخه منع کړی دی، دغه رکم هغوی ٔ دهغه خلګو په حق کی ځوك چی دلمونځ ګذار مخ ته تیریږی چی په هغه سره دلمونځ ګذار په خشوع اوخضوع کی دفرق راتلو احتمال دی، که څه هم لمونځ نه ماتیږی. وفرمایل: ادرءوا ما استطعتم فلیدفعه فان ابی فلیقاتله فانما هو شیطان، ونحو ذالك. دغه رکم هغوی ٔ هغه سړی چاچی په جومات کی دقبلی طرف ته توکلی وه دامامت شخه معزوله کی اوهغه یی دخدای اورسول مؤذی ګرزولی وو. اوعبدالله بن مسعود رضی الله عنه هغه خلګ چی په جومات کی جمع سوی وه اوپه لوړ آواز ذکر او وِرد کی مشغوله وه بدعتیان وګرزول اودجومات شخه یی دباندی وایستل. اوفقهاوو هم تصریح کړیده چی اومه اوږه اوپیاز خوړونکی اودغه رکم مُردار خُلی (چی دخولی شخه یی خراب بوی ځی) اوجذامی اومبروص (دبرص مریض) اوماهیان خرڅونکی اوهر مؤذی که څه هم هغه په ژبی سره ضرر رسوی جومات ته دراتللو شخه بندول پکار دی. دنمونی په طور یوڅو روایات اوعبارتونه دمحدثینو اوفقهاوو ملاحظه کړی:

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من اکل هٰذه الشجرة فلایقربن مسجدنا ولایؤذینا بریح الثوم. رواه مسلم. وعن عمر بن الخطاب رضی الله عنه قال انکم ایّها الناس تاکلون شجرتین لا اراهما الا خبثین هٰذ البصل والثوم رأیت رسول الله ﷺ اذا وجد ریحها من الرجل فی المسجد امر به فاخرج الی

---

(۱). انه علیه الصلوة والسلام کان خرج لیصلح بین قوم فعاد الی المسجد وقدصلی اهل المسجد فرجع الی منزله فجمع اهله وصلی. (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۸ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳). ظفیر

(۲). ردالمحتار. باب الاذان مطلب فی کراهة تکرارالجماعة فی المسجد ص۳۲۷ ج۱، ط.س. ج۱ ص۳۹۳. ظفیر

البقيع فمن اكلها فليمتها طبخًا. رواه مسلم.

نوویؒ دمسلم په شرح کی لیکلی چی: فلا يقربن المساجد هذا تصريح بالنهى عن اكل الثوم ونحوه عن دخول كل مسجد وهذا مذهب العلماء كافةً. (١)

اوحافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کی لیکی:

والحق بعضهم بذلك من بفيه بخر او جرح او رائحة، وزاد بعضهم فالحق اصحاب الصنائع كالسماك والعاهات كالمجذوم، ومن يؤذى الناس بلسانه، (٢) الخ، وعن ابى هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ايما امرة اصابت بخورًا فلا تشهد معنا العشاء الأخر رواه مسلم. (٣) وعن ابى سعيد قال قال رسول الله ﷺ لايقطع الصلوٰة شيئ وادرءوا ما استطعتم فانما هوشيطان رواه ابوداود. (٤) وعن ابى سعيد قال قال رسول الله ﷺ اذا صلى احدكم الى شيئ يسيره من الناس فاراد احد ان يجتاز بين يديه فليدفعه فان ابى فليقاتله فانما هو شيطان. رواه البخارى (٥)، وعَنْ أَبِي سَهْلَةَ السَّائِبِ بْنِ خَلَّاد هُوَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَجُلًا أَمَّ قَوْمًا فَبَصَقَ فِي الْقِبْلَة وَرَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ يَنْظُرُ فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ حينَ فَرَغَ لا يُصَلِّي لَكُمْ فَأَرَادَ بَعْدَ ذَلكَ أَنْ يُصَلِّيَ لَهُمْ فَمَنَعُوهُ وَأَخْبَرُوهُ بقَوْلِ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلكَ لرَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ فَقَالَ نَعَمْ وَحَسبْتُ أَنَّهُ قَالَ إِنَّكَ آذَيْتَ اللهَ وَرَسُولَهُ. ابوداؤد. (٦)، عن ابن مسعود رضي الله عنه انه سمع قوما اجتمعوا فى مسجد يهللون ويصلون عليه والسلام جهرًا فراح اليهم وقال ما عهدنا ذلك على عهده عليه الصلاة والسلام وما اراكم الا مبتدعين فما زال يذكر ذلك اخرجهم من المسجد. رواه الطبرانى.

اوپه درمختار کی دی: واكل نحو ثوم يمنع عنه وكذلك مؤذٍ ولو بلسانه. آھ ، اوپه رد المحتار کی دی: وَكَذَلكَ أَلْحَقَ بَعْضُهُمْ بذَلكَ مَنْ بفيه بَخَرٌ أَوْ به جُرْحٌ لَهُ رَائحَةٌ، وَكَذَلكَ الْقَصَّابُ وَالسَّمَّاكُ، وَالْمَجْذُومُ وَالْأَبْرَصُ أَوْلَى بالْإِلْحَاق. وَقَالَ سَحْنُونٌ لَا أَرَى الْجُمُعَةَ عَلَيْهِمَا وَاحْتَجَّ بالْحَديث وَأَلْحَقَ بالْحَديث كُلُّ مَنْ آذَى النَّاسَ بلسَانه وَبه أَفْتَى ابْنُ عُمَرَ وَهُوَ أَصْلٌ في نَفْي كُلِّ مَنْ يُتَأَذَّى به.

---

(١). مسلم باب نهى من اكل ثوما اوبصلا الخ عن حضور المسجد ص ٢٠٩ ج ١ وص ٢١٠ ج ١. ظفير

(٢). شرح نووى على مسلم ص ٢٠٩ج١ . ظفير

(٣). فتح البارى شرح صحيح البخارى.

(٤). مشكوٰة باب الجماعت ص ٩٢.

(٥). مشكوٰة باب الجماعة ص ٩٢.

(٦). مشكوٰة باب المساجد ومواضع الصلوة فصل ثالث ص ٧١ . ظفير

آهــ ونحو ذلك في مجالس الابرار وغيره. (۱) فقط والله تعالی اعلم.

دجمعي ځخه بيل چي کم لمونځ وسو، هغه وسو اوکه نه؟ سوال: (۵۵۵) که چيری يوځای جمعه ولاړه وی، اويو سړی دامام سره دخوابدتيا په وجه په جمع کی شامل نسی او خپل لمونځ ځان ته وکړی نوددغه سړی لمونځ صحيح سو اوکه نه؟

جواب: لمونځ صحيح سو خودغه سړی ګنهګار اوفاسق سو (۲).

چی جمعه ولاړه وی نو بله جمع کول څنګه دی ؟ سوال: (۵۵۶) بکر جومات ته په داسی وخت کی راورسيدی چی دماښام جمعه ولاړه. بکريوسړی دځان سره کی اودماښام لمونځ يی په لوړ آواز شروع کی. خلګو دبکر ځخه پوښتنه وکړه، نوجواب يی ورکی چی په دی امام پسی لمونځ نه کيږی، ولی چی دی دجمعی په ورځ فاتحه نه ورکوی، ددی سړی په باره کی څه حکم دی؟

جواب: په دی صورة کی بکر سخت ګنهګار اوقصور وار فاسق اوتفرقه اچوونکی دی، چی دجمعی مخالفت کوی اوپه مسلمانانو کی تفرقه اچوی. (۳)

دجومات دحجری پرچت باندی جمعه: سوال: (۵۵۷) په رمضان شريف کی که چيری دګرمی په وجه دجومات دحجری پرچت باندی دماخستن جمعه وسی نوجائزده اوکه نه؟

جواب: لمونځ کيږی. خودجومات ثواب به نه ورکول کيږی. (۴)

دجمعي ترک کونکی کور سوزل جائزنه دی: سوال: (۵۵۸) دافتوٰی ورکول چی کم سړی په کورکی لمونځ کوی، جومات ته نه ځی، دهغه کورته داور لګولو حکم دی. څنګه دی؟

داويناچي په کورکی لمونځ ګناه کبيره ده، څنګه ده؟ سوال: (۵۵۹) داويل چی په کورکی لمونځ کول ګناه کبيره ده څنګه دی؟

جواب: (۱) په حديث شريف کی تهديداً بيشکه داسی واردسوی وی چی نبی کريم ﷺ وفرمايل چی ما داسی اراده کړی وه چی کم خلګ لمانځه ته نه راځی دهغوی کورونو ته

---

(۱). ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها مطلب فی احكام المسجد ص۶۶۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۶۶۱. ظفير

(۲). والجماعة سنة مؤكدة للرجال، قال الزاهدی ارادوا بالتاكيد الوجوب (درمختار) ان هٰذا يقتضی الاتفاق علی ان تركها مرة بلا عذر يوجب اثما ؒ وقال فی شرح المنية والاحكام تدل علی الوجوب من ان تاركها بلا عذر يعزر وترد شهادته وياثم الجيران بالسكوت عنه. (ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۱۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۲). ظفير

(۳). ثمرته تظهر فی الاثم بتركها مرة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار. باب الامامة ص ۵۱۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۴). ظفير

(۴). قال ان رسول الله ﷺ علمنا سنن الهدی وان من سنن الهدی الصلوة فی المسجد الذی يؤذن فيه (مشكوٰة باب الجماعة).

اور ولګوم. لیکن دښځو اوماشومانو په وجه می داسی ونه کړل (۱) ځ ددی څخه معلومه سوه چی اوس اور لګول جائز نه دی ولی چی هغوئ هم اور نه وو لګولی.

(۲) په جمعی ترك کولو باندی عمداً مواظبت کول بی عذره ګناه کبیره اوموجب دفسق دی. لیکن که چیری یووار دوه اتفاقًا جمعه ترك سوه نوداګناه کبیره نه ده. (۲) فقط

باران او سخته یخنی عذر دی اوکه نه؟ سوال: (۵۲۰) که چیری امام یا مقتدی دباران یا دژمی په ورځوکی دیخنی په وجه کله کله په جمع کی شریك نه سی نوآیا داعذر دترك جماعت دپاره کافی دی؟

دامام اومقتدی انتظار درست دی اوکه نه؟ سوال: (۵۲۱) آیادامام یامقتدی لس پنځه منٹه انتظار کول درست دی، کله چی دجمعی وخت مقرروی؟

جواب: (۱) په باران اوسخته یخنی کی په بعضو صورتونو کی عذر دترك دجماعت کیدی سی. (۳)

(۲) کله چی په وخت کی ګنجائش کافی سته نو انتظار درست دی. (۴) فقط

په حرم شریف کی چی اوله جمعه ونه نیسی نوآیا په دوهمه جمعه کی شریک سی؟ سوال:

(۵۲۲) که چیری په حرم شریف کی جماعتِ شافعی ونه نیول سی نوخپل لمونځ په مسجد شریف کی ځان ته کول ښه دی اوکه په جماعت مالکی یاحنفی کی شریکیدل ښه دی. په جماعت ثانیه کی به لمونځ بغیر کراهته جائزوی اوکه نه؟

جواب: خلاصه دسوال داده چی که چیری چاته دحرم محترم په جومات کی مخکنی جمعه ونه رسیږی نودمالکی یاحنبلی یاحنفی په دوهمه جمع کی دی شریك سی اوکه نه؟

---

(۱). قال رسول الله ﷺ والذی نفسی بیده لقد هممت آن آمر بحطب فیحطب ثم آمر بالصلوة فیؤذن لها ثم اٰمر رجلاً فیؤم الناس ثم اخالف الی رجال وفی روایة لا یشهدون الصلوة فاحرق علیهم بیوتهم رواه البخاری، وعن ابی = هریرة ﷺ عن النبی ﷺ قال لولا ما فی البیوت من النساء والذریة اقمت صلوة العشاء وامرت فتیاتی یحرقون مافی البیوت بالنار رواه احمد (مشکوٰة باب الجماعة وفضلها فصل اول وثالث ص ۹۵ وص ۹۷). ظفیر

(۲). هٰذَا یَقْتَضِي الاتفَاقَ عَلَى أَنَّ تَرْكَهَا مَرَّةً بِلا عُذْرٍ یُوجِبُ إِثْمًا مَعَ أَنَهُ قَوْلُ الْعِرَاقِیِّینَ. والْخرَاسانیُّون عَلَى أَنَهُ یَأْثَمُ إِذَا اعْتَادَ التَّرْكَ كَمَا فِي الْقُنْیَة. وَقَالَ فِي شَرْحِ الْمُنْیَة: وَالأَحْكَامُ تَدُلُّ عَلَى الْوُجُوب، مِنْ أَنَ تَارِكَهَا بِلا عُذْرٍ یُعَزَّرُ وَتُرَدُّ شَهَادَتُهُ وَیَأْثَمُ الْجِیرَانُ بِالسُّكُوتِ عَنْهُ. (رد المحتار. باب الامامة ص ۵۱۵ ج ۱ وص ۵۱۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۲). ظفیر

(۳). فلاتجب (الجماعة) علی مریض الخ ولاعلی من حال بینه وبینها مطر فطین وبردشدید وظلمة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۱۹، ط.س. ج۱ ص ۵۵۵). ظفیر

(۴). عن جابر بن سمرة قال کان بلال یوذن ثم یمهل فاذا رای النبی ﷺ قدخرج اقام الصلوة (ابوداود. باب فی المؤذن ینتظر الامام ص ۸۲ ج ۱) وینتظر المؤذن الناس (عالمگیری. مصری الباب الثانی فی الاذان. فصل ثانی ص ۵۳ ج۱، ط. ماجدیه ج ۱ ص ۵۷). ظفیر

اوس په دی ځای کی دوې مسئلی پیښی دی. یوه داچی دبل مذهب والا اقتداء کول اوپه جمع سره لمونځ کول ښه دی اوکه ځان ته لمونځ کول ښه دی. نوپه دی مسئله کی دفقهاوو اختلاف دی. بعضی په جمعی سره لمونځ کولو ته ښه وایی، که څه هم امام دبل مذهب یعنی شافعی وغیره وی. نوپه دی مسئله کی راجح داده چی په جمعی سره لمونځ کول ښه دی، دځان دلمونځ کولو څخه. لکه څه رکم چی علامه شامی وروسته دنقل کولو داختلاف څخه فرمایلی دی: فنحصل الی الاقتداء بالمخالف المراعی فی الفرائض افضل من الانفراد اذا لم یجد غیره والا فالاقتداء بالموافق افضل (۱) ﷫ (ﷺ)
اودوهمه مسئله داده چی په حرم شریف کی چی متعددی جمعی کیږی نوکه چیری چاته مخکنی جمعه ونه رسیده نوپه دوهمه اودریمه اوڅلورمه جمع کی شاملیدل جائزدی اوکه نه؟ اوجماعت ثانیه په حرم شریف کی جائزدی اوکه نه؟ اوپه جماعت ثانیه وغیره کی شریکیدل ښه دی اوکه ځان ته لمونځ کول ښه دی. نوپه دی کی هم اختلاف دی. اکثره محققین په حرم محترم کی هم دوهمی اودریمی جمعی وغیره ته مکروه فرمایی. دهغوی په نزد ظاهره ده چی ځان ته لمونځ اولٰی دی په دوهمه جمعه کی دشریکیدلو څخه. څنګه چی دمحلی دنورو جماتونو حکم دی.
اوبعضی علماء دافرمایی چی دحرم شریف دجومات حکم دمحلی دجومات غوندی نه دی بلکی دلاری دجومات غوندی دی هلته جماعت ثانیه (دوهمه جمعه) درسته ده. په دی شان علامه شامی وروسته دنقل کولو دقول دعلماوو محققینو کم چی په باره دانکار دجماعتِ ثانیه کی دهغوی څخه منقول دی، نقل کولو څخه وروسته فرمایلی دی: لکن یشکل علیه ان نحو المسجد المکی والمدنی لیس لهم جماعة معلومون فلایصدق علیه انه مسجد محلة بل هو کمسجد الشارع وقد مرَّ انه لا کراهة فی تکرار الجماعة فیه اجماعًا فلیتامل (۲) ﷫ اوبیا علامه موصوف جواز راجح ګڼلی دی لیکن فی الواقع قول دمحققینو څوك چی دعدم جواز قائل دی راجح معلومیږی، ولی چی په حرمینو شریفینو کی دامامانو اومؤذنانو مقرروالی معلوم دی اودهمیشه لمونځ ګذارو جماعت هم معلوم دی. که څه هم دحج اوزیارت په موسم کی دغیر معلومینو دجماعت اضافه وسی. وعن هٰذا ذکر العلامة الشیخ السندی (ﷺ) تلمیذ المحقق ابن الهمام فی رسالة ان ما یفعله

(۱). رد المحتار. باب الامامة. مطلب فی الاقتداء بشافعی ونحوه ص **۵۲۷** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۶۳**. ظفیر
(۲). رد المحتار باب الامامة مطلب فی تکرار الجماعت فی المسجد ص **۵۱۷** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۳**. ظفیر

ﷺ باید ووایو چی پرهمدې موضوع باندی دعلامه سندی" رساله دهمدې جلد په پای کی وګورئ. حقانی"

اهل الحرمين من الصلوٰة بائمة متعددة وجماعة مترتبة مكروه اتفاقًا ونقل عن بعض مشائخنا انكاره صريحًا حين حضر الموسم بمكة سنة ۵۵۱ هـ منهم الشريف الغزنوى وذكر انه افتى بعض المالكية بعدم جواز ذلك على مذهب العلماء الاربعة ونقل انكار ذلك ايضًا عن جماعة من الحنفية والمالكية حضروا لموسم سنة ۵۵۱ هـ آهـ واقرة الرملى فى حاشية البحر (١). ثم نقل العبارة المذكورة سابقًا اعنى لكن يشكل عليه ؒ وقد مرّ الجواب عنها. فقط

(۵۲۳) سوال: دجمعي ځخه وروسته آيا په يوه درجه کې جلا جلا لمونځ کول کيږي؟

مشهوره ده چې که چيرې دمازيګر لمونځ سوی وی او وروسته دوه سړی جومات ته دلمانځه دپاره راسی نوپه يوه درجه کی دواړه ځان ځان ته لمونځ نه سی کولی اولمونځ به نه کيږي. هرسړی دی په جلا درجه کی لمونځ وکړی. اوپه نورو لمونځونو کی همداشان جائز دی. دادرسته ده اوکه نه؟

جواب: داچې مشهوره ده غلطه ده لکه څنګه چې په نورولمونځونوکی که چيری مخکی جمع ونه نيول سی اودوه ياځلور سړی وروسته راسی نوهغوی دجومات په يوه درجه کی ځانته لمونځ کولی سی. دغه رکم په هريو وخت کی کولی سی هيڅ وجه دفرق نسته.

(۵۲۴) سوال: داقامت په شروع کی دمقتدي اوامام په دريدلو کی څه مصلحت دی؟

دمقتدی اوامام پردريدلو باندی داقامت په شروع کی تعامل راروان دی نوپه دی کی څه مصلحت دی؟

جواب: هغه خاص مصلحت دادی چې داحاديثو څخه معلوميږي چې دمخکی څخه دی برابروالی دصفونو وسی. نوکه چيری په حی علی الفلاح باندی مقتديان ودريدل ودريدل اوپر قدقامت الصلوٰة باندی امام تکبيرتحريمه وويل څنګه چې دفقهی دکتابونو دروايت څخه معلوميږي. نودمخکی څخه به دصفونو دبرابروالی وغيره انتظام ونه سی حالانکی دااَهم (٢) دی. اوپه حی علی الفلاح باندی ددريدو امر استحبابی دی اوپه دی کی تاويل هم کيدی سی هغه داچې ددی څخه دی تاخير نه کوی په تقديم کی هيڅ حرج نسته. فقط

شيعه که چيری دسنيانو په جمعه کی شريک سی نو آيا ددی په وجه به څه نقص پيدا سی ؟

(١). رد المحتار باب الامامة مطلب فى تكرار الجماعت فى المسجد ص۵۱۷ ج ١، ط.س. ج١ ص ۵۵۳. ظفير

(٢). عن النعمان بن بشير ؓ قال: كان رسول الله ﷺ يسوي صفوفنا حتى كأنما يسوي بها القداح حتى رأى أنا قدعقلناعنه ثم خرج يوما فقام حتى كاد أن يكبرفرأى رجلا باديا صدره من الصف فقال: عباد الله لتسون صفوفكم أو ليخالفن الله بين وجوهكم". رواه مسلم، وعن انس ؓ قال اقيمت الصلاة فاقبل علينا رسول الله ﷺ بوجهه فقال اقيموا صفوفكم وتراصوا ؒ (مشكوة باب تسوية الصف ص ٩٧ وص ٩٨). ظفير

سوال: (۵۲۵) په جمعه کی که چیری څوک شیعه په منځ کی ودریږی، اولمونځ کوی نو دسنیانو لمونځ به صحیح سی اوکه نه؟ اوهغه منع کول پکاردی اوکه نه؟

جواب: دسنیانو په لمانځه کی به په دی صورة کی څه نقصان اوخلل نه وی لیکن آئنده به دغه رافضی ته ووایی چی یادی هغه دخپل مذهب څخه توبه وکاږی کنی دمسلمانانو جمعی ته دی نه راځی اوهغه دی مسلمانان په خپل قبرستان کی نه ښخوی. فقط

دچا څخه چی جمعه تیره سی ځان ته په جومات کی لمونځ وکړی اوکه په کور کی جمع وکړی: **سوال**: (۵۲۶) دیو سړی څخه دجمع لمونځ فوت سو آیادی په جومات کی ځان ته لمونځ وکړی اوکه په کورکی دجمعی سره لمونځ وکړی.

جواب: که چیری په کورکی په جمعی سره لمونځ ممکن وی نوداښه اوبهتره دی. ولی به داسی نه وی حال داچی دامروی دی درسول الله ﷺ څخه څنګه چی یی په ردالمحتار کی نقل کړی دی. (۱) فقط

په جومات کی دوهمه جمعه اودوباره جمعه: **سوال**: (۵۲۷) یوسړی دضد په وجه په همدغه جومات کی خپل ځان ته پنځه وخته لمونځ اوجمع کوی. جماعت ثانیه اوجمعه دوباره کول څنګه دی. **جواب**: دوهمه جمعه دمحلی په جومات کی کول مکروه دی اودجمعی لمونځ دوباره په همغه جومات کی په کم کی چی جمعه سویده جائز نه دی. «والظاهر انه یغلق ایضًا بعد اقامة الجمعة لئلا یجمع فیه احد بعدها» شامی (۲) . نو کم سړی چی دضد په وجه داسی کوی هغه سخت ګنهګاردی.

دامام دفسق په وجه په کور کی لمونځ: **سوال**: (۵۲۸) په فاسق امام پسی دلمانځه مکروه کیدلو په خیال سره خپل په کورکی یاجومات کی دجمعی څخه مخکی یادجمعی څخه وروسته ځان ته لمونځ کول جائز دی اوکه ناجائز. اوځان ته لمونځ کونکی ته به تارك جماعت خونه ویل کیږی؟

جواب: په درمختارکی دی: وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة (۳). پردی باندی علامه شامی لیکلی دی: قوله نال فضل الجماعة ؒ ان الصلوة خلفهما اولی من الافراد (۴) الخ نو معلومه سوه چی د یوازی لمونځ کولو څخه دا ښه دی

---

(۱). ولنا انه علیه الصلاة والسلام کان خرج لیصلح بین قوم فعاد الی المسجد وقدصلی اهل المسجد فرجع الی منزله فجمع اهله وصلی. (رد المحتار . باب الامامة ص ۵۱۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳). ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الجمعه تحت قول الماتن وافاد ان المساجد تغلق یوم الجمعة الا الجامع ص ۷۶۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۱۵۷. ظفیر

(۳) و (۴) وګوری رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفیر

چی په مذکوره جماعت کی شامل سی.

په جمعه کی دمهتر شرکت: سوال: (۵۶۹) دمهتر قوم یوسړی بغیر دمسلمانیدلوکه چیری دجمعی په لمونځ کی شریکیږی نو هغه شریکول پکار دی اوکه نه ؟ هغه خپله برادری نه پریږدی؟

جواب: په جمعه کی دشریکیدلو څخه هغه مه بندوی، هسی نه چی په وعید، وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللهِ اَنْ یُّذْکَرَ فِیْهَا اسْمُهُ (۱) کی داخل سی، په لمونځ اوجمعه کی به هغه هغه وخت داخلیدل غواړی چی دهغه په زړه کی به اسلام وی اوپه مهتر قوم (کی) بعضی مسلمانان هم وی. غالبًا هغه به هم دهغه کسانو څخه وی کم چی مسلمانان دی.

دښار په غیر آباد ځای کی اذان اولمونځ: سوال: (۵۷۰) یوجومات په ځنګل کی ددریاب په غاړه واقع دی، او هغه جومات غیر آباد دی، په هغه کی څوك لمونځ نه کوی، که یو سړی دښار یاکلی څخه په هغه کی دیره سی اوپنځه وخته په اذان اوتکبیرویلوسره لمونځ کوی نوهغه ته به دجمعی ثواب ورکول کیږی اوکه نه؟ اودهغه په حق کی په دغه جومات کی ځان ته لمونځ کول ښه دی اوکه دجمعی ترك کولو په وجه به ګنهګاریږی؟

جواب: په دغه جومات کی داذان اواقامت ویلو څخه وروسته ځان ته په لمونځ کولو کی هم دجمعی ثواب حاصلیږی اوددغه ښارجومات آبادول په بعضو وجوهاتوسره افضل دی اوددی څه تفصیل دفقهی کتابونو کی لیکل سوی (۲) دی.

دتجارت په وجه جمعه ترک کول: سوال: (۵۷۱) زید سوداګر دی اوهغه په خپل نوکر یایو بل ملګری باندی دخپل کاروبار اعتماد نه سی کولی چی هغه دی خلګوته (خپله سودا) پریږدی اودجمعی لمونځ داداء کولودپاره جومات ته ولاړسی اوکه چیری وکی نوخیالات یی منتشر کیږی، اوس په دی باره کی دزید دپاره څه حکم دی، آیاهغه په دوکان کی لمونځ کوی اوکه جومات ته ځی، ځکه چی جومات ته په تللو کی ډیر تکلفات کول وی.

جواب: که چیری دنقصان اندیښنه وی اودوکان بندول ګران وی نودغه سړی دی په دوکان کی لمونځ وکړی. کما فی الشامی. قوله وخوف علی ماله ای من لص ونحوه اذالم یمکنه غلق الدکان والبیت مثلاً (۳) فقط.

---

(۱). سورة البقره رکوع ۱۴ . ظفیر

(۲). مؤذن مسجد لایحضر مسجده احدا قالوا هو یؤذن ویقیم ویصلی وحده وذلك احب من ان یصلی فی مسجد اخر (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۵). ظفیر

(۳). رد المحتار باب الامامة ص ۵۱۹ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳. ظفیر

دجمع ترک کونکی حکم: **سوال**: (۵۷۲) کم سړی چی په جومات کی سره دجمع قائم کیدلو ځانته لمونځ کوی اوپه جمعه کی نه شریکیږی دهغه څه حکم دی. په دی فعل سره کفر لازمیږی اوکه نه؟

جواب: کفر نه لازمیږی خودغه سړی فاسق دی، توبه دی وکاږی ان تارکها (الجماعة) بغیر عذر یعزر وترد شهادته ویاثم الجیران بالسکوت عنه. غنیة المستملی ص ۴۷۵، ظفیر.

دامام سره دجګړی په وجه جمعه ترکول سوال: (۵۷۳) دیوسړی دجومات دامام سره جګړه سویده. دغه سړی په جمعی سره لمونځ کول پرې ایښی دی کم وخت چی لمونځ شروع سی نودغه سړی ځانته لمونځ شروع کړی دغه سړی ګنهګاردی که نه؟

جواب: په داسی حالت کی جمعه پریښوول اوځانته لمونځ کول سخته ګناه ده، دغه سړی به ګنهاریږی. ([1])

دیو سلام ګرزولو څخه وروسته په جمعه کی شریکیدل درست نه دی: **سوال**: (۵۷۴) دامام یو سلام ګرزولو څخه وروسته زید تحریمه وویل اوپه جمعه کی شامل سو نولمونځ صحیح سو اوکه نه؟ **جواب**: فی الدر المختار وتنقطع التحریمة بتسلیمة واحدة ([2]) الخ نو په صورة مذکوره کی اقتداء صحیح نه سوه اوهغه دی دسره تکبیر تحریمه ووایی اوځان ته دی لمونځ وکړی. فقط

په مکه مکرمه کی څلور مصلی ولی دی؟ **سوال**: (۵۷۵) په مکه شریفه کی څلور مصلی ولی قائمی سوی دی اوهلته دتعدد جماعت څه حکم دی؟

جواب: په دی کی اختلاف دعلماوو دی څنګه چی یی په شامی کی نقل کړی دی. لیکن په آخره کی یی فرمایلی دی چی په مسجد حرام کی متعددی جمعی مکروه نه دی. ([3])

دمسجد قارعة الطریق تشریح: **سوال**: (۵۷٦) د دوهمی جمعی څه حکم دی او د مسجد

([1]). ان تارکها (ای الجماعة) من غیر عذر یعزر وتردشهادته ویاثم الجیران بالسکوت (غنیة المستملی ص ۴۷۵). ظفیر

([2]).الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ط. س. ص ۴۹۰ ج ۱. ظفیر

([3]). ویکره تکرار الجماعة الخ (درالمختار) وعن هٰذا ذکر العلامة الشیخ رحمة الله السندی تلمیذ المحقق ابن الهمام ان مایفعله اهل الحرمین من الصلوة بائمة متعددة وجماعات مترتبة مکروه اتفاقا ونقل عن بعض مشائخنا انکاره صریحًا الخ وقد مر انه لاکراهة فی تکرار الجماعة فیه اجماعًا (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۷ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۲) لکن الف العلامة الشیخ ابراهیم البیری شارح الاشباه رسالة سماها (الاقوال المرضیة) اثبت فیها الجواز وکراهة الاقتداء بالمخالف الخ وکذا الف العلامة الشیخ علی القاری رسالة سماها (الاقتداء فی الاقتداء) اثبت فیها الجواز لکن نفی فیها کراهة الاقتداء بالمخالف اذا راعی فی الشروط والارکان فقط (ردالمحتار. کتاب الصلاة ص ۳۵۰ ج۱ مطلب فی تکرار الجماعت، ط.س. ج۱ ص ۳۷۷). ظفیر

قارعة الطریق څخه څه مراد دی؟

جواب: دمسجد قارعة الطریق څخه مراد دادی چی په هغه کی دوهمه جمعه مکروه نه ده اودمحلی په جومات کی دوهمه جمعه مکروه (۱) ده. فقط

جذامی په جمعه کی شریکیدلی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۵۷۷) دجذامی سړی په جمعه کی شریکیدل پکاردی اوکه نه؟ اونورو خلګو ته نفرت کول پکاردی اوکه نه؟

جواب: دجذامی څخه جمعه اوجماعت ساقط اومعاف دی، په دی وجه چی هغه دی جومات ته نه راځی. نوجذامی ته نه دی پکار چی هغه په جمعه کی شریك سی، اوکم خلګ چی دجذام وهلی سړی څخه جلا سی اوځان ځینی ساتی نوپر هغوی باندی هیڅ ملامتیانسته ځکه چی دجذامی څخه دتښتیدلو اوخلاصیدلوحکم رسول اللهﷺ فرمایلی (۲) دی. فقط

چی په یو جومات کی جمعه پیدا نه سی نوآیا بل جومات ته ولاړ سی؟ **سوال**: (۵۷۸) که چیری په یو جومات کی جمعه پیدا نه سوه نوبل جومات ته دجمعی دنیولو دپاره تلل څنګه دی؟

جواب: که په یوجمات کی جمع سوی وی نوکه چیری په بل جومات کی دجمعی ورکولو امیدوی نوبل جومات ته تلل اوپه جمعی سره لمونځ کول ښه اودثواب موجب دی، په سلفو کی به دامت اکابرو داسی کول چی په یوجمات کی به جمعه سوی وه نوبل جومات ته به دجمعی په تلاش تلل (۳). فقط

په جمعه کی تلوار: **سوال**: (۵۷۹) زید دیوجمات امام دی اودهغه ورور مؤذن دی، داجامع مسجد دی، لمونځ ګذار زیات پکښی راجمع کیږی، امام اومؤذن چی کم اصول دجمع دپاره مقرر کړیدی، هغه دلمونځ ګذارو څخه خلاف دی، هغه داچی مؤذن اذان وکی، امام صاحب راحاضر سو، دځلورو رکعاتو په مقدار یی انتظار وکی، په دی دوران کی که دوه یاځلور سړی راغلل نولمونځ یی شروع کی که رانغلل نوهم یی شروع کوی.

(۱). قال فی الشامی ومقتضی هٰذا الاستدلال کراهة التکرار ولوبدون اذان الخ شامی ص ۵۱۲ ج۱.

(۲). واکل ثوم ویمنع منه وکذا کل موذو ولوبلسانه (درمختار) وکذالك الحق بعضهم بذالك من بفیه بخر اوبه جرح له رائمة وکذالك القصاب والسماك والمجذوم والابرص اولی بالالحاق (ردالمحتار. مایفسد الصلوة وما یکره فیها مطلب احکام المسجد ص ۲۱۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۲۲۱). ظفیر

(۳). ولوفاتته ندب طلبها فی مسجد اٰخر الا المسجد الحرام ونحوه (درمختار) فلایجب الطلب فی المساجد بلا خلاف بین اصحابنا بل ان اتی مسجدا للجماعة فحسن وان صلی فی مسجد حیه منفردا فحسن الخ وردالمحتار. باب الامامة جلد اول ص ۵۱۸ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۵). ظفیر

اوپه دغه مقدار معینه باندی دلمونځ گذارو راجمع کیدل ناممکن دی، که چیری لس دولس منټه انتظار وسی نوټول لمونځ گذاربه راجمع سی، اوډیر لوی جماعت به په لمانځه کی شریك سی. امام صاحب ته داوینا هم وسوه چی پنځلس منټه انتظار کوی، چی ټول لمونځ گذار جمعی ته راځی. خو هغه د خپل حرکت څخه نه اوړی په دی صورة کی ددی امام څه حکم دی اوددوهمی جمعی څه (حکم) دی؟

جواب: مؤذن اوامام ته دومره تلوار کول نه دی پکار، کله چی دلمونځونو وخت موسع (فراخه) دی نوهیڅ وجه دداسی تلواری نسته اوانتظار دلمونځ گذارو ډیر ضروری دی. دنیمی گنټی په انتظار کی تقریبًا داکارونه کیدی سی (یعنی داستنجاء وغیره څخه فراغت) امام ته دغومره انتظار کول پکار دی اودلمونځ گذارو رعایت کول پکاردی. په دی خودرایی کی اودمحلې دخلگو په انتظار نه کولو کی امام ته پرځای دثواب ورکولو دگنهگاریدلو ([1]) خطره ده. دمحلی خلگ هغه معزلولی هم سی. دمحلی خلگو او لمونځ گذارو ته پکاردی چی که امام داتلواری کول پری نه ږدی نوهغه دی موقوف کړی اوبل امام دی مقرر کړی. دوهمه جمعه مکروه ده ددی ارتکاب هیڅکله مه کوی. دامام انتظار کوی. فقط

داودس مات دتقاضا په وخت کی دی مخکی دهغه څخه فارغه سی، بیا دی لمونځ وکړی

سوال: (۵۸۰) زید چی سهار ولاړیدی نوهغه ته دلوی اودس مات ضرورت وو. که بیت الخلاء ته ځی، نولمونځ ځینی قضا کیږی، نواول داودس مات څخه فارغه سی اوکه لمونځ اداء کړی ؟

جواب: مخکی دی قضاءِ حاجت ادا کی بیا دی قضاء لمونځ وکړی. ([2]) فقط

دامام دمقررولو طاقت نه لرلو په وجه په بعضو جوماتونو کی جمعه بندول څنگه دی؟

سوال: (۵۸۱) که په یوښار کی ډیر جوماتونه وی اولمونځ گذار کم وی په هر یو جومات کی دامام مقررولو طاقت نه لری نوکه چیری متصل محلی والا په شریکه

([1]). ویجلس بینهما بقدرمایحضر الملازمون مراعیالوقت الندب الافی المغرب فیسکت قائما قدر ثلاث ایات قصار ویکره الوصل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الاذان ص ۳۷۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۳۸۹). ظفیر

([2]). فلاتجب (الجماعة) علی مریض الخ اومدافعة احد الاخبثین (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۱۹ و ۵۲۰ ج ۱ ط.س. ج۱ ص ۵۵۵ و ۵۵۶) کره الخ وصلاته مع مدافعة الاخبثین اواحدهما او الریح للنهی (درمختار) الاخبثین ای البول والغائط قال فی الخزائن سواء کان بعد شروعه او قبله فان شغله قطعها ان لم یخف فوت الوقت وان اتمها اثم الخ (رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ص ۴۰۰ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۶۴۱). ظفیر

یوجومات کی امام مقرر کړی اونور جوماتونه پریږدی په یوجومات کی په جمعی سره په امام مذکور پسی لمونځ اداء کړی نوڅه حکم دی؟

جواب: ښه داده چی حتی الوسع دی ټول جوماتونه آباد کړی او لږ لږ لمونځ ګذاردی په ټولو جوماتونو کی لمونځ کوی دمجبوری په حالت کی چی څنګه په وسه وی هغسی دی کوی. (۱) فقط

دجومات پریښوول درست نه دی: **سوال**: (۵۸۲) په داسی حمام کی چی په څلورو طرفونو کی پکښی دود وی په هغه کی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟ مثلاً ترحمام لوړ خانقاه وی په هغه کی لمونځ اداء کول څنګه دی؟ په مخکښی جومات چی صرف په پنځلس**۱۵** قدمه فاصله کی دی په هغه جومات کی لمونځ نه اداء کوی بلکه دمودی راهیسی یی لمونځ معطل ګرزولی دی، څه حکم دی؟

جواب: جومات معطل ګرزول او خرابول جائزنه دی که څه هم ترحمام لوړ خانقاه کی لمونځ اداء کول جائزدی لیکن جومات پریښوول اوپه دغه خانقاه کی لمونځ اداء کول ښه نه دی. دمحلی جومات آبادول دمحلی پرخلګو لازم دی. بدوالی ددی فعل چی جومات پریږدی اوحمام ته نژدی چی ددود جمع کیدلو ځای دی لمونځ اداء کوی اوبی ضرورته ددی فعل التزام کول په چا باندی پټ نه دی. (۲)

دکور دحفاظت په وجه جمعه پریښوول: **سوال**: (۵۸۳) که چیری دکور دحفاظت په وجه په کور کی لمونځ کوی نوآیا دجمعی ترك کولو ګناه به وی؟

جواب: جمع ترك کول اوعلی الدوام تارك دجماعت کیدل دکبائرو څخه دی، اوفسق او معصیت دی. دجمعی ضرور اهتمام کول پکاردی. (۳)

په جمعه کی دشَری سرِی رعایت: **سوال**: (۵۸۴) دجومات امام دچارعایت کولی سی اوکه نه؟ **جواب**: فقهاوو لیکلی دی چی په بعضی ځایونو کی دیو شری سړی هم امام رعایت

---

(۱). ومسجد حیه افضل من الجامع (درمختار) ای الذی جماعته اکثر من مسجد الحی الخ بل فی الخانیة لولم یکن لمسجد منزله مؤذن فانه یذهب الیه ویؤذن فیه ویصلی ولوکان وحده لان له حقا علیه فیؤدیه (ردالمحتار. باب مایفسد الصلوة مطلب احکام المسجد ص ۲۱۷ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۵**). ظفیر

(۲). ثم الاقرب الخ ومسجد حیه افضل من الجامع (درمختار) بل فی الخانیة لولم یکن لمسجد منزله مؤذن فانه یذهب الیه ویؤذن فیه ویصلی ولوکان وحده لان له حقا علیه فیؤدیه (ردالمحتار. باب مایفسد الصلوة مطلب احکام المسجد ص ۲۱۷ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۵**). ظفیر

(۳). والجماعة سنة مؤکدة للرجال الخ وقیل واجبة وعلیه العامة ﷺ قال فی البحر وهو الراجح عند اهل المذهب ﷺ ثمرته تظهر فی الاثم بترکها مرة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ج ۱ ص **۵۲۰**، ط.س. ج۱ ص **۵۵۲**). ظفیر

کولی سی، کله چی دهغه څخه دڅه فساد اندیښنه وی ([1]). فقط

په جمعه کی تاخیر: **سوال**: (۵۸۵) په دی علاقه کی په یوه کوڅه (ګلی) کی دننه یو کوچنی جومات دی چی په هغه کی صرف پنځه یا اووه لمونځ ګذاردی. په دی جومات کی پنځه وخته دجمعی دپاره دوختونو پابندی بالکل نه کیږی عمومًا پر انتهایی وخت باندی لمونځ کیږی چی په هغه کی بعضی اوقات دوخت فوت کیدلو احتمال وی کنی کم از کم دجمعی فضیلت خوقطعی نه حاصلیږی. ددسمبر اوجنوری په میاشت کی دسهار دلمانځه سلام داوو۷ بجو څخه دری څلور منټه مخکی ګرزول کیږی. کم وخت چی دسائل په خیال کی دلمر کناره شاید دآسمان دغاړی څخه پرښکاره کیدلو وی. سرخی او دورځی رڼا په ښه ډول سره ښکاره سی. درحمت الله رعد کانپوری په جنتری کی یی په ۱۴دجنوری کال ۱۹۱۸ م کی پرشپږ بجی اوشپږ څلوېښت دقیقې (6:46) باندی لمر راختل لیکلی دی. دماپښین لمونځ اکثره دوی بجی یا ددوو بجو څخه دوه څلور منټه وروسته وی او ددوو بجو څخه مخکی ډیرکم کیږی. په داسی صورة کی سائل چی په اول وخت کی لمونځ کول غواړی دجمعی څخه مخکی دلمونځ ګذارو جمع کیدلو څخه که چیری جلا خپل لمونځ کوی نوڅنګه دی؟

جواب: دریلوې ټائم مطابق جنتری موجوده اومعموله په دې مدرسه کی ۱۴ جنوری ته په اووه بجی او یوویشت منټه (7:21) باندی لمر راختل درج دی، بلکی د۳ جنوری څخه تر ۱۸ دجنوری پوری همدغه وخت دلمر راختلو دی اوجنتری صادقه ([2]) ده اوتجربه ددی دکلونو راهیسی ده، اواول وخت دمازیګر د ۱۴جنوری دیارلس منټه بالا څلور بجی (4:13) باندی دی اوددی څخه مخکی مخکی آخر وخت دماپښین موافق دمذهب دامام ابوحنیفه رحمه الله وی. نوکم ساعت (ګړی) چی دریلوی ټایم سره برابر دی په هغه کی که چیری په جنوری کی تراوو ۷ بجو پوری دسهار لمونځ وسی نوتر دغه وخته پوری دسهار دلمانځه وخت ښه وی. همدغه ډول تردوو ۲ پاو باندی دوو (2:15) بجو پوری دماپښین وخت هم ښه وی. په داسی حالت کی جمعه ترك کول هیڅکله درست نه دی. اوواضحه دی وی چی داحنافو په نزد دسهار په لمونځ کی ښه اسفار یعنی په رڼایی کی لمونځ کول

([1]). رئیس المحلة لاینتظر مالم یکن شریرا والوقت متسع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الاذان ص ۳۷۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

([2]) حضرت مفتی علام" ددیوبند دجنتری حواله ورکړیده اوسوال دکانپوردی، نوځکه په کانپور کی دشپږ نیمو بجو څخه مخکی جماعت ختمیدل پکاردی.

نبه دی. هٰکذا فی الدر المختار (۱) فقط

دسلام گرځیدلو په وخت کی په تکبیرِ تحریمه او جمعه کی شریکیدل : **سوال** : (۵۸۲) زید تکبیری تحریمه وویل او امام سلام وګرزوی او زید دامام سره په قعده کی بالکل شریك نه سو نواوس زیدته دوباره تکبیرِ تحریمه ویل پکاردی اوکه دغه مخکنی تکبیر تحریمه کافی دی؟

جواب: چی پوره تکبیرِ تحریمه یعنی الله اکبر یی دامام دسلام ګرزولو څخه مخکی ویلی دی نوهغه په جمعه کی شریك سو اوس هغه ته دوباره دتکبیر ویلو ضرورت نسته. قال فی الحلیة عند قول المنیة ولا دخول فی الصلوٰة الا بتکبیر الافتتاح. شامی

دمتعین امام په غیر موجود ګی کی امامت: **سوال**: (۵۸۷) په فتاوٰی رشیدیه کی دی چی که چیری یوڅوکسان په مقرر وخت کی دمتعین امام په غیر موجودګی کی په جمعی سره لمونځ وکړی، نو متعین امام بیا جمعه بغیر دکراهت څخه کولی سی. اودجمعی ثواب به دی دوهم جماعت ته رسیږی. نه اول الذکر ته، خوپه درمختار کی چی کم ځای دکراهت لازمیدلو شرائط امام اعظمؒ اوامام ابویوسفؒ بیان کړی دی هلته دتعین دوخت یا دامام هیڅ شرط نسته، په دی صورة کی دی څه وسی، شرعًا څه حکم دی؟

جواب: په شامی کی ددی تصریح ده چی که چیری مخکنی جمعه غیر اهل مسجد کړی وی نوپه دی صورة کی دوهمه جمعه مکروه نه ده بلکی په دی حالت کی معتبره دوهمه جمعه ده اودمخکنی جمعی اعتبار نسته. یعنی په دی معنٰی چی دجومات خلګوته دجمع کولو حق سته که څه هم ثواب دجمعی به مخکی جمعی والاوو ته هم حاصل سی. عبارت دهغه دادی: عبارته فی الخزائن اجمع مما هٰهنا ونصها ویکره تکرار الجماعة فی مسجد محلة باذان واقامة الا اذا صلی بهما فیه اولا غیر اهله (۲) الخ اودنورو عبارتونو څخه هم دامفهومیږی: ویؤیده ما فی الظهیریة ولو دخل جماعة المسجد بعد ماصلی فیه اهله یصلون وحدانا وهوظاهر الروایة (۳) شامی. په دی عبارت کی داهلهِ دقیدڅخه دغیر اهل مسجد جماعت خارج سو. دغه رکم په باب الاذان کی دی: وحینئذ فلو دخل جماعة المسجد بعد ماصلی اهله فیه فانهم یصلون وحدانا . الخ ، نو معلومه سوه چی په فتاوٰی

---

(۱). یستحب الاسفار بالفجر لقوله ﷺ اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر (هدایه کتاب الصلوة باب المواقیت ص ۷۸ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۳۷۲). ظفیر

(۲). ردالمحتار. باب الامامة ج ۱ ص ۵۱۲ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳. ظفیر

(۳). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳. ظفیر

رشیدیه کی چی څه دی هغه صحیح دی. (۱)

دفساد دېيرې څخه دجومات جمعه پرېښوول درست دی، که نه؟ سوال: (۵۸۸) دمسجد یو بانی دمسجد امام یوه ورځ ووهی اوښکنځل یی ورته وکړل په دی وجه شل مسلمانان په کور کی جمعه اوجماعت کوی. داجائز دی که نه؟ په وجه دخوف دفتنی او فساد؟

جواب: په دی حالت کی په کور کی جمعه اوجماعت کول درست دی. فقط

په تراویحو کی دښځو جماعت کول مکروه دی: سوال: (۵۸۹) یوه ښځه دقرآن حافظه ده. که چیری دغه ښځه کلامِ ربّانی په تراویحو کی ویل غواړی نو دښځو جماعت کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دښځو جماعت مکروه تحریمی دی، نه دی کول پکار. (۲)

دځان ته لمونځ کولو ثواب په کورکی زیات دی اوکه په جومات کی؟ سوال: (۵۹۰) زید په جومات کی ځان ته لمونځ کوی اوبکر په کور کی لمونځ کوی. ددواړو په ثواب کی څه فرق سته اوکه نه؟

جواب: کم سړی چی په جومات کی دجمعی لمونځ پرېږدی اوپه کورکی دلمونځ کولو عادی دی اودجمعی پرپرېښوولو باندی مصر دی هغه فاسق دی. په احادیثوکی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی که چیری دماشومانو اوښځو خیال نه وای نومابه دهغه خلګو کورونوته اور ورکړی وای څوك چی جومات ته دجمعی لمانځه ته نه راځی. (۳) نوکم سړی چی جومات ته راځی اوځانته لمونځ کوی اودجمعی خیال نه ساتی اوخپل عادت دجمعی ترك کولو کوی یاپه کورکی دځان ته لمونځ کولو عادی وی اوجمعه ترك کوی، دواړه فاسقان اودواړه دحرام کار ارتکاب کونکی دی. په دوی کی به دچا په باره کی وویل سی چی زیات ثواب فلانکی ته دی، اوفلانکی ته نه دی. دوی دواړه ګنهګار دی. دواړو ته دالازم دی چی دجمعی پابندی دی کوی، نه دی په کورکی ځانته لمونځ کوی اونه دی په جومات کی ځانته لمونځ کوی. دمجبوری په وجه که اتفاقًا جمعه فوت سی نودا جلا خبره (۴) ده.

---

(۱). رد المحتار باب الاذان ص ۳۲۷ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۹۵. ظفیر

(۲). ویکره تحریمًا جماعة النساء ولوفی التراویح فی غیر صلوٰة جنازة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۸ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۵). ظفیر

(۳). عن ابی هریرة ﷺ عن النبی ﷺ قال لو لا ما فی البیوت من النساء والذریة اقمت صلوٰة العشاء وامرت فتیاتی یحرقون مافی البیوت بنار. رواه احمد (مشکوٰة باب الجماعة فصل ثانی ص۹۷). ظفیر

(۴). قال محمد فی الاصل اعلم ان الجماعة سنة مؤکدة لایرخص الترك فیها الا بعذر مرض اوغیره ﷺ ففی الغایة =

په ځنګل کی دلمانځه کولو فضیلت یوازی دسړی دپاره دی اوکه جماعت دپاره؟ سوال: (۵۹۱) په ځنګل کی دلمانځه کولو چی کم لوی فضیلت راغلی دی نویوازی سړی ته دی اوکه په جماعت سره، اودا ظاهره ده چی په ځنګل کی جماعت ډیر مشکل دی؟

دوهمه جمعه مکروه تحریمی ده او که تنزیهی ؟ سوال : (۵۹۲) په دوهمه جمعه کی کراهت تحریمی دی اوکه تنزیهی؟ او دمکروه تحریمی مرتکب دګناه کبیره مرتکب دی اوکه دصغیره؟

داستوګنی په کور کی دوهمه جمعه مکروه ده اوکه نه؟ سوال: (۵۹۳) داستوګنی په کورکی دوهمه یا دریمه جمعه کول مکروه دی اوکه نه؟

په محراب کی به امام څه رکم دریږی؟ سوال: (۵۹۴) دجومات په محراب کی امام ته څه رکم دریدل پکاردی. که چیری بالکل دننه دریږی نومکروه تحریمی دی یاتنزیهی. دقدم دڅومره حصې دباندی ایستلو سره به دریږی. سره دحوالی دکتابونوییې تحریر وفرمایی.

جواب: (۱) په ځنګل کی دلمانځه کولوفضیلت دی، ددی دامطلب نه دی چی دجوماتونو څخه زیات په دی کی فضیلت دی. دحدیث شریف څخه دجوماتونو خیرالبقاع (په ځایونو کی بهترین) کیدل ثابت (١) دی. بلکی مطلب ددی دادی چی کله یوسړی په ځنګل کی وی اودلمانځه وخت راسی نوهلته دی لمونځ وکړی، که ډیر کسان وی نوجمعه دی وکړی اوکه یووی نویوازی دی وکړی. په هرډول فضیلت حاصل دی. په شامی کی دی: وروی فی الخبر ان من صلی علی هیئة الجماعة ای باذان واقامة ولوکان منفرداً صلت بصلوته صفوف (٢) الملئکة. الخ

(۲) قال فی الشامی قوله: ویکره تکرار الجماعة الخ ای تحریمًا لقول الکافی لا یجوز والمجمع لا یباح وشرح الجامع الصغیر انه بدعة الخ. شامی (٣)

ددی څخه معلومه سوه چی په دوهمه جمعه کی کراهت تحریمیه دی.

(۳) مکروه نه ده. (٤)

= قال عامة مشائخنا انهاواجبة الخ وفی البدائع تجب علی العقلاء البالغین الاحرار القادرین علی الجماعة من غیر حرج انتهٰی، والادلة تدل علی الوجوب الخ وکذا الأحکام تدل علی الوجوب من ان تارکها من غیر عذر یعزر وترد شهادته ویاثم الجیران بالسکوت عنه. (غنیة المستملی فصل فی الامامة ص ۴۷۴). ظفیر

(١). فقال شر البقاع اسواقها وخیر البقاع مساجدها رواه ابن حبان. (مشکوٰۃ باب المساجد ص ۷۱). ظفیر

(٢). درمختار فصل فی القراءة. قوله ولو منفرد ا لانه ان اذن واقام صلی خلفه من جنود الله ما لایری طرفاه رواه عبد الرزاق. (ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص ۳۶۲، ط.س. ج۱ ص ۳۹۴). ظفیر

(٣). ردالمحتار مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد. باب الامامة ص ۵۱۲ ج ۱. ظفیر

(٤). ویکره تکرار الجماعة باذان واقامة فی مسجد محلة، لا فی مسجد طریق اومسجد لا امام له ولامؤذن =

(۴) په درمختارکی دی: وقیام الامام فی المحراب لا سجوده فیه وقدماه خارجه لان العبرة للقدم (۱) ؒ ددی څخه معلومه سوه چی که چیری قدمونه یی دمحراب څخه دباندی وی نو کراهت نه پاته کیږی. او په شامی کی یی ویلی دی : وفی حاشیة البحر للرمل الذی یظهر من کلامهم انها کراهیة تنزیهیة. فتامل ص نمبر: ۴۳۴، جلد اول. (۲)

دیوی جمعی په دوران کی دبلی جمعی کوشش؟ سوال: (۵۹۵) زید نومی یوسړی باوجود ددی چی جمعه ختمه نه وه، تکبیر یی ووایه، اودوهمه جمعه یی وکړه اودا جمعه یی صرف په دی وجه وکړه چی داولنی جمعی امام غیر مقلد وو. یعنی اهلِ حدیث په دغه جومات کی امام دی. کله چی لمونځ ختم سو نوغیر مقلد امام ددوهمی جمعی مقتدیانو ته وویل چی تاسی دلمانځه اعاده وکی ولی چی ستاسی لمونځ په دی وجه ونه سو چی په حدیث شریف کی راغلی دی اذا اقیمت الصلوة فلا صلوة الا التی اقیمت. اوس سوال دادی: (۳) په پورته ذکرسوی صورة کی په دغه حدیث شریف سره دهغه لمونځ باطلیدل ثابتیږی اوکه نه؟ کم چی داولنی جمعی دختمیدلو څخه مخکی شروع سوی وی. که چیری ثابتیږی نواعاده په جمعی سره پکارده اوکه دجمعی څخه بغیر؟ اوکه نه ثابتیږی، نوپه یوه جومات کی دیوفرض ددوو جمعو په یووخت کی دناجائزوالی څه دلیل دی.

دیوی جمعی دوران کی دبلی جمع کونکی لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال: (۵۹٦) په پورتنی صورة کی دحدیث مذکور څخه قطع نظر خاص دحنفی مذهب په اعتبار سره هغه لمونځ صحیح سو اوکه نه؟ کم چی داولنی جمعی دختمیدلو څخه مخکی شروع سوی وو. که چیری صحیح سوی وی نودکراهت تحریمی سره یاتنزیهی سره؟

اقتداء ترک کول سوال: (۵۹۷) سوال دادی (الف) چی باوجود دشرعی قسم اخستو څخه دذاتی خفګان په وجی سره دزید اقتداء ترك كول (ب) دتفريق جماعت كوشش كول (ج) په اولنی جمعه کی شرکت نه کول اودهغه دختمیدلو څخه مخکی بله جمعه شروع کول دحنفی مذهب په اعتبار سره جائز دی اوکه نه؟

په دوو سړیو سره جمعه کیږی اوکه نه؟ سوال: (۵۹۸) په حنفی مذهب کی دجُمعي څخه ماسوا په نورو لمونځونو کی په دوو سړو سره جَمعه کیږی اوکه نه؟

جواب: د (۵۹۵) څخه تر (۵۹۸) پوری، دحدیث شریف الفاظ کم چی په مسلم شریف کی

= (درمختار) ولنا انه علیه الصلوة والسلام كان خرج لیصلح بین قوم فعاد الی المسجد وقد صلی اهل المسجد فرجع الی منزله فجمع اهله وصلی ؒ (رد المحتار باب الامامة مطلب فی تکرار الجماعت فی المسجد ط.س. ج۱ ص ۵۵۳). ظفیر (۱). و (۲) رد المحتار باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها، ط.س. ج۱ ص ۶۴۵. ظفیر

(۳). قال رسول الله ﷺ، اذا اقیمت لصلوة فلا صلوة الا المكتوبة، رواه مسلم (مشكوة. باب الجماعة ص۹۲). ظ

روایت سوی دی، دادی: اذا اقیمت الصلوٰة فلا صلوٰة الا المکتوبة. ([1]) ددی حدیث څخه ممانعت ددی خبری ثابت دی چی کم وخت دلمانځه تکبیر وسی اوجمعه شروع سی نوپه دغه جمعه کی شریکیدل پکاردی. سنت، نفل وغیره نه دی کول پکار. خودنورو احادیثو په وجهی سره دسهار سنت امام ابوحنیفه رحمه الله مستثنٰی فرمایلی دی. دلته دهغه دلیکلو ضرورت نسته. بهر حال ددی حدیث څخه بطلان ددوهم لمونځ نه معلومیږی. ددی حدیث حاصل صرف دادی چی کله جمعه ودریږی نوبل لمونځ مه کوی. نه داچی بل لمونځ به باطل وی. دامفهوم ددی حدیث نه دی. دا ددغه غیر مقلدغلطی ده چی دبل لمونځ دباطل والی حکم یی وکی. بلکی هغه ته داویل پکاروه چی دیوی جمعی په دوران کی دوهمه جمعه کول نه وو پکار. داکار بد وسو، آئنده داسی مه کوه. غرض داچی راګرزول ددغه لمونځ ضروری نه وو. غیر مقلد امام جوړول نه دی پکار ولی چی غیر مقلد خلګ په احادیثوکی همدغه ډول خطا کوی اوپه ناخبرتیا سره غلطی مسئلی خلګو ته ښیی، اود دوی په عقائدو کی فسادوی په دی وجه غیر مقلد امام جوړول نه دی پکار اودهغه څخه ډیر احتیاط کول پکاردی. تعجب دی چی غیرمقلدین تقلید ته شرك اوحنفیانوته مشرکان وایی. اوبیا حنفیان دی چی همدغه خلګ دخپل لمونځ امامان جوړوی. چونکی په صورة مسئوله کی دغیرِ مقلد امام په باره کی سوال دی، په دی وجه د ۳ دمضامینو جواب ترك سو چی کله امامت دغیرمقلد درست نه دی اودهغه معزوله کول ضروری دی نودهغه متعلق دزید دترکِ اقتداء سره بحث ونه سو. (۴). کیږی. ([2]) فقط، والله اعلم

چی دمخکی سلام څخه وروسته په جمعه کی شریک سو نوڅه حکم دی؟ سوال: (۵۹۹) که چیری یوسړی په جمعه کی ددوهم سلام دختمیدلو څخه مخکی اوداول سلام څخه وروسته شریك سی نوهغه ته به دجمعی ثواب ورکول کیږی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی په جمعه کی شریك نه سو اودجمعی ثواب ورنه کول سو، په درمختار کی دی. تنقضی قدوة بالاول ([3]). ظ فقط

په ناجائزه مال باندی په جوړسوی جومات کی لمونځ: سوال: (۶۰۰) یوی ډمی دنکاح څخه وروسته خپل خاوند ته روپیۍ ورکړی هغه په هغو روپیو باندی جومات جوړ کی. په دغه

([1]). حواله یي په تیره صفحه آخری حاشیه کی تیره سوه. محمد أحمد الحقّانی الأفغانی

([2]). واقلها ای الجماعة اثنان واحد مع الامام ولوممیزا ظ فی مسجداوغیره (درمختار) لحدیث اثنان فما فوقهما جماعة (رد المحتار باب الامامة ص ۵۱۸ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۳). ظفیر

([3]). اوتنقطع به التحریمة بتسلیمة واحد، برهان وقدمر (درمختار) حیث قال وتنقضی قدوة بالاول قبل علیکم الخ فلایصح الاقتداء به. بعدها لانقضاء حکم الصلاة (ردالمحتار مطلب فی وقت ادراك فضیلة الافتتاح، ط.س. ج۱ ص ۵۲۵). ظفیر مفتاحی

جومات کی لمونځ جائزدی اوکه یوازی دی په کورکی لمونځ کوی؟

جواب: په دغه جومات کی لمونځ کیږی اوپه کور کی دیوازی لمونځ کولو څخه په جمعی سره په دغه جومات کی لمونځ کول ښه دی. فقط

دوهم فصل

دامامت استحقاق

دامام په موجود ګی کی بل څوک امام جوړول: **سوال**: (۲۰۱) چی دجومات امام دباندی په غولی کی وی اوپه دننه جومات کی خلګ بل سړی دامام داجازت څخه بغیر امامتی ته مخکی کړی نوځنګه دی؟

جواب: دامامِ مسجد په موجودګی کی دبل چا امام جوړیدل بغیر ضرورته اوبغیر دشرعی وجهی څخه ښه نه دی. لیکن کم سړی چی دجومات خلګو امام جوړکی په هغه پسی هم لمونځ صحیح دی. څنګه چی په درمختار کی دی: واعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقًا وقال قبیله والخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم ولو قدموا غیر الاولی اساءوا بلا اثم ؔ. (۱) فقط

یوسړی دجنابت تیمم وکی اوبل دبی اودسی نوپه دوی کی دچا امامت ښه دی. سوال: (۲۰۲) یوسړی دجنابت تیمم وکی اوبل دبی اودسی، او دادواړه په علم او پرهیزګاری کی برابر دی نودچا امامت به ښه وی؟

جواب: دواړه برابر معلومیږی. (۲) والله اعلم

چی په حالت دحَدث اوجنابت کی جمعه ورکړی، نوڅه دی وکړی؟ سوال: (۲۰۳) که چیری یوامام په حالت دحدث یاپه حالت دجنابت کی لمونځ ورکړی وی نوددغه لمونځونو به څه علاج کیږی کله چی دایاد نه وی چی هغه وخت کم کم لمونځ ګذاروه. اوهغوی ته څه رکم اطلاع ورکړی؟

جواب: په درمختار کی دی چی که چیری امام دجنابت په حالت کی یا دبی اودسی په حالت کی لمونځ ورکړی نوپر هغه لازم دی چی مقتدیانو ته اطلاع ورکړی. (۳) نومذکور

---

(۱). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۲** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**. ظفیر

(۲). لهٰذا دَقرعی په ذریعه دی فیصله وسی. یادقوم اکثریت چی کم طرفته وی. فان استووا یقرع بین المستوین او الخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۲** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۸**). ظفیر

(۳) کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث اوجنب اوفاقد شرط اورکن وهل علیهم اعادتها، ان عدل نعم والا ندبت. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۵۳** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۹۱**).

امام ته پکاردي چي حتی الوسع کم کم مقتديان چي ورپه يادسي هغوی ته دي اطلاع ورکړي چي دفلاني وخت دلمانځه اعاده وکړي ولې چي هغه لمونځ نه وو سوی. اوڅوك چي ورپه ياد نه سي دهغوی لمونځ صحيح سو. هغه ته په اطلاع نه کيدلو کي څه حرج نسته، که چيري بيا ورپه ياد سي نوهغه ته دي هم اطلاع ورکړل سي، اوپخپله امام مذکوردي هم ددغه لمانځه اعاده وکړي اوددغه ګناه څخه دي توبه او استغفاروکړي. فقط

بې دشرعي وجهي څخه په امام پسي لمونځ نه کول سوال: (۲۰۴) دلته دوه مخالفه دي. يو سړي پربل باندي ناحقه زبردستي وکړه. دوهمه ډله ددغه مظلوم سړي په طرف سوه اوپه فوجداري کي يي دعوه داخله کړه. مظلوم ته انديښنه سوه چي که چيري ظالم ته څه سزا ورکول سوه نومابه دهميشه دپاره تنګوي دجومات امام ته دغه مظلوم ويل چي که چيري دآئنده دپاره مانه تنګوي نوزه معافي ورکوم، نودجومات امام دهغه ظالم څخه اقرار واخستی دآئنده دپاره. دوهمي ډلي ته چي ددي خبري پته ولګيده چي دجومات امام زموږ مخالف ددعوې څخه خلاص کي نودجومات په امام پسي يي لمونځ کول پريښوول نوهغوی دګناه مرتکب سوه اوکه نه؟

جواب: دفقهي کتابونو کي ليکلي دي چي که چيري امام بې قصوره وي، اوخلګ دهغه داقتداء څخه کراهت کوي نوګناه په دغه ترك کونکو باندي ده. اوکه چيري په امام کي قصور وي نودغه امام ته دداسي خلګو امامت کول کم چي دهغه په امامت ناخوښه وي مکروه دي. خوپه پوښتني سوي صورة کي دامام خطاء نسته. لهٰذا هغه خلګ ګنهګار دي کم چي دهغه داقتداء څخه احتراز کوي. آئنده هغوی ته په دغه امام پسي لمونځ کول پکاردي. ([1]) فقط

که امام قرآئت بهتر نسي کولی نودقاري انتظار مناسب دي: **سوال**: (۲۰۵) که جمع تياره وي اومقرر امام دقرآئت څخه ناخبره وي. يوقاري اودس کوي نودهغه انتظار وسي اوکه نه؟

جواب: په دي صورة کي دقاري صاحب انتظار مناسب اوښه دي. ([2])

([1]). لوام قومًا وهم له كارهون انكان الكراهة لفساد فيه ﷺ كره له ذلك ﷺ وان هو احق لا والكراهة عليهم (الدر المختار على هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹) فتسن اوتجب ﷺ على الرجال العقلاء البالغين الاحرار القادرين على الصلاة بالجماعة من غير حرج (درمختار) فبالحرج يرتفع الاثم ويرخص في تركها ولكن يفوته الافضل (رد المحتار باب الامامة ص ۵۱۸ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۴). ظفير

([2]). که چيري امام په قرآت کي څه داسي غلطي نه کوي چي مفسدِ صلوة وغيره ده نوحکماً دامقرر امام دبل چا څخه افضل دي. واعلم ان صاحب البيت ومثله امام المسجد الراتب اولى بالامامة من غيره مطلقا (درمختار) اي وان كان غيره من الحاضرين من اعلم واقرأ منه (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹) =

که اکثریت په یو وجه امام معزول کړي: **سوال**: (۲۰۶) په جامع مسجدکي یوامام داتو کالو راهیسي مقرردی په دی دوران کی یی دیوبي ډیری هلك سره بدمعاشي وکړه. هغه هلك ممبرانوته شکایت وکی نودجومات متولی اوپنځلسو غړیومشوره وکړه چی امام معزوله کړي. اودوه ممبران اولمونځ گذار دامام طرف دار دی اوهغه نه معزوله کوی، شرعًا په دی صورة کی څه حکم ورکول کیږي؟

جواب: فقهاوو لیکلی دی چی دامام دمعزوله کولو اومقررولو اختیار (دجومات) باني یادهغه اولاد لره دی. اوکه چیری دقوم اکثره افراد دیوسړي په امامت باندی راضي سی اودقوم مقرر کړی امام اصلح وی، نوهغه اصلح امام کیدی سی. قال فی الدر المختار الباني للمسجد اولی من القوم ینصب الامام والمؤذن فی المختار الا اذا عيَّن القوم اصلح ممن عینه الباني ﴿ (قوله الباني اولی) وکذا اولاده وعشیرته اولی من غیرهم ﴿ شامي، ([1]) نوپه صورة مسئوله کی کله چی اکثره قوم مخکنی امام دهغه دشرارت او فسق په وجه معزوله کړی اوبل امام یې مقررکی نودا معتبردی اولني امام به معزوله سی. اومتولی که چیری دوقف کونکی دطرف څخه وی او دهغه دشرط مطابق وی نودغه متولی هم قائم مقام کیدی سی. فقط

دامام دامامت دعوٰی او دمقتدیانو انکار: **سوال**: (۲۰۷) که چیری دیوې خانقاه دمشر ځای ناستی (سجاده نشین) په وجه دمشری دخانقاه دامامت دعوه وکړی اوباقی وارثان کم چی دهغه دکورنۍ والا او مقتدیان دی دهغه امامت منظور نه کړی نه دامام دعوٰی درسته ده اوکه نه؟

جواب: دفقهي په کتابونوکی دی چی دجمات باني اووقف کونکی دامام وغیره مقررولو زیات حقداردی. اوکه هغه نه وو نودهغه اولاد اوخپلوان زیات حقداردی. دهغه څخه وروسته چی دمحلی اوجومات خلگ ځوك امام مقرر کړی، هغه امام کیږي. نو دخانقاه مشر که چیری دوقف کونکی داولاد څخه دی نوبیشکه هغه ته حق دی دامام وغیره مقررولو لیکن دوقف کونکی نورو خپلوانو ته هم داحق دی دخانقاه مشرته څه ترجیح اوخصوصیت په دی باره کی نسته. ([2]) فقط

= البته که امام په خوشحالي سره دغه قاری ته دامامت اجازه وکړه نودهغه دپاره اجازه دی اوانتظاربه دی. ظفیر

([1]). ردالمحتار، کتاب الوقف بعد مطلب من سعی فی نقض ماتم ص ۵۷۳ ج ۳، ط.س. ج۴ ص ۴۳۰. ظفیر

([2]). ولایة الاذان والاقامة لباني المسجد مطلقا وکذا الامامة لوعدلا (درمختار) وفی الاشباه ولد الباني وعشیرته اولی من غیرهم وفی الوقف ان القوم اذا عینوا مؤذنا واماما وکان اصلح مما نصبه الباني فهو اولی (ردالمحتار. باب الاذان فروع ص ۳۷۲ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

چی په امامت کی اختلاف وی نوترجیح چاته ورکړی: **سوال**: (۲۰۸) دمحلی په جومات کی دوه سړی وایی چی زموږ مقرر سړی به امام وی. اودجمعی چی کم زیات کسان دی هغوی وایی، چی موږ ځوك امام مقرر کړی هغه به امام وی.

جواب: دجمعی زیات کسان چی کم ځوك امام مقرر کړی هم هغه به امام وی. لان الاعتبار للاکثر. (۱) فقط

دغیر معزز امامت: **سوال**: (۲۰۹) دامامت حق ماسوا دمعزز قوم څخه بل قوم ته سته اوکه نه؟ یوڅو کسان وایی چی لمونځ صرف دلاندینیو قومونو سړی ورکولی سی یعنی شیخ قوم، سیدان، مغل او پښتون. اوپه رذیل قوم پسی لمونځ جائز کیدی نه سی اوهغوی ته دامامت حق حاصلیدی نه سی. داخبره شرعًا صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دامامت استحقاق هرهغه مسلمان ته سته ځوك چی اهلیت دامام کیدلو لری. بیا چی ځومره لوازمات دامامت دمسائلو علم اوتجوید قرآئت، اوصلاح اوتقوٰی په هغه کی زیات وی هغومره به هغه اولٰی او الیق بالامامت متصورکیږی (۲) څنګه چی په درمختار وغیره کی دی. والاحق بالامامة الأعلم باحکام الصلوٰة ثم الأحسن تلاوة للقرآءة ثم الورع الی ان قال ثم الاشرف (۳) نسبًا. ۞ ددی عبارت څخه واضحه سوه چی په چا کی اهلیت دامامت وی هغه امام کیدی سی، اواحق بالامامت اولٰی دی دهغه دغیر څخه. اوپه دی حکم کی ټول قومونه اوکسب والا برابردی. البته که دشرافت علمی وغیره سره نسبی شرافت هم وی مثلاً داچی هغه قریشی وی، سیدوی، یاشیخ وی، علوی وی یا انصاری وی، نوهغه به افضل وی دهغوی دغیرڅخه لکه څنګه چی دآخری جملی ثم الاشرف نسبًا حاصل دی. نوقول دهغه خلګو ځوك چی داوایی چی ماسوا دشیخ یا پښتون وغیره، یا سپین پوستی، اوحجّام وغیره څخه کم چی دامامت لائق وی په هغه پسی لمونځ صحیح دی اوپه دوی کی چی ځوك زیات عالم زیات قاری اوزیات پرهیزګار وی هغه دامامت زیات حقداردی. دغه ډول ځوك چی اشرف دی په اعتبار دنسب سره باوجود دحاصلوالی دصفت دعلم اوتجوید اوتقوٰی هغه افضل دی دهغه دغیر څخه (۴) دالله ﷻ په نزد زیات

---

(۱). او الخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم ایضًا. باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸). ظفیر

(۲). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقیل واجب وقیل سنة (درمختار) وعبارة الکافی وغیره الاعلم بالسنة اولی الا ان یطعن علیه فی دینه لان الناس لا یرغبون فی الاقتداء به. (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۳).الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۱ ج۱ . ظفیر

(۴). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتناب الفواحش الظاهرة وحفظه قدرفرض ۞ ثم الاحسن تلاوة وتجویدا۞ ثم الاسن ثم الاحسن خلقا ۞ ثم الاحسن وجها ای اکثرهم تهجدا =

عزتمند هغه دی څوك چی زيات پرهيزگاروی كماقال الله تعالیٰ: اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ اَتْقٰكُمْ. ([1]) ليكن سره دتقوٰی دسعادت څخه كه چيری نسبی شرافت هم وی نُوْرٌ عَلٰی نُوْر دی. ليكن هيڅوك مسلمان اوهيڅوك كسب گر سپك گڼل درست نه دی: اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ. پردی موقع باندی ياد ساتل پكاردی. فقط

دعيد گاه امامت: **سوال**: (۲۱۰) يو سړی عيدگاه جوړه كړه اوپخپله دهغه امام سو. يوڅو كاله وروسته هغه يوبل سړی امام كی اوپه هغه پسی يی لمونځ وكی. اوس اولنی امام مړسو دهغه يوزوی دی په دی صورة كی دامامت حق دچادی.

جواب: دامامت حق په دی صورة كی دعيدگاه دبانی دی. ([2]) فقط

كم علمه امام به دلوی عالم باوجود امامت كوی: **سوال**: (۲۱۱) كم امام چی په يوځای كی پر امامت باندی مقرردی اوپه دغه ځای كی بل سړی دهغه څخه په علم كی زيات وی نو دهغه داجازه څخه بغير هغه امامت كولی سی اوكه نه ؟ كه چيری نسی كولی نوبغير اجازته نكاح خوانی څه ركم كولی سی؟

جواب: داحاديثو اودفقهی درواياتو څخه داثابت سوی دی چی كم سړی ديو جومات او محلی امام وی دهغه په موجودگی كی دهغه دمرضی څخه خلاف دی بل څوك نه امام كيږی. ([3]) اودنكاح خوانی دپاره شارع ﷺ قاضی نكاح خوان معين اومقرر كړی نه دی بلكی داكار وليانو ته سپارل سوی دی چی دهغه تفصيل دفقهی كتابونو كی موجوددی. نو نكاح خوانی پرامامت باندی قياس كول صحيح نه دی. فقط

په زيات علم والا اوكم علم والا كی ښه څوک دی؟ **سوال**: (۲۱۲) يو سړی په مسائلو ښه خبر دی. بل سړی كم علمه دی. په دی دواړو كی دامامت مستحق څوك دی اوپه كم علم والا پسی كه زيات علم والا لمونځ وكړی نودرست دی اوكه نه؟

جواب: دامامت زيات حق دار هغه سړی دی كم چی دلمانځه په مسائلو باندی زيات پوه وی ليكن كه چيری زيات علم والا په كم علم والا پسی لمونځ وكی نولمونځ كيږی. ([4])

= ﷺ ثم الاشرف نسبا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۰، ۵۲۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفير

([1]). سورة الحجرات : ۲.

([2]). ولاية الاذان والاقامة لبانی المسجد مطلقا وكذا الامامة لوعدلا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الاذان ص ۳۷۴ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفير

([3]). واعلم ان صاحب البيت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غيره مطلقا (درمختار) مطلقا ای وان كان غيره من الحاضرين من هو اعلم واقرأ منه ﷺ (ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

([4]). الْأَوْلٰی بِالْإِمَامَةِ أَعْلَمُهُمْ بِأَحْكَامِ الصَّلَاةِ ، هَكَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ وَهُوَ الظَّاهِرُ ، هَكَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ هٰذَا إِذَا عَلِمَ مِنْ الْقِرَاءَةِ قَدْرَ مَا تَقُومُ بِهِ سُنَّةُ الْقِرَاءَةِ هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ وَلَمْ يُطْعَنْ فِي دِينِهِ ﷺ وَيَجْتَنِبُ الْفَوَاحِشَ الظَّاهِرَةَ =

په لاندینیو دوو کسانو کی دامامت مستحق څوک دی؟ سوال: (۲۱۳) زید ته دخپل پلار څخه

کامل حق دامامت وغیره ورکول سو. اوپه زید کی دشریعت څخه خلاف هیڅکله څه خبره نسته، بلکی نهایت متقی اودکتاب اوسنت عالم دی، اوقوم هم دزید په امامت باندی خوشحاله دی. که چیری دداسی سړی حق جبراً ضبط کړی اوخالد پنځه وخته لمونځ او جمع دزید په موجودګی کی ورکوی نو شرعًا خالد ته امامت ورکول او دخلګو په هغه پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی. واعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقا ای وان کان غیره من الحاضرین من هو اعلم واقرأ منه ﷺ شامی. ([1]) نو معلومه سوه چی اولی بالامامت په دی صورة کی زید دی. اوپه داسی حالت کی چی زید پخوانی اوداقوم مقررکړی دی خالدته امام جوړیدل ناجائز اومکروه دی. لحدیث ابی داود ولا یقبل الله صلٰوة من تقدم قوما وهم له کارهون. درمختار ([2])

دامام څخه وروسته دهغه ټولو زامنو ته دامامت استحقاق سته اوکه کم څوک چی خلګو مقرر کی؟ سوال: (۲۱۴) یو دمسجد امام وفات سو دهغه پنځه زامن دی په هغوی کی یوبالغ وو. باقی ټول نابالغه وه. دکلی خلګو په اتفاق سره مشر ورور امام کی هغه دپنځلسو شپاړسو کالو څخه امامت کوی. اوس کشران وروڼه هم بالغ او دامامت قابل سوه اوپه مشر ورور باندی دعوٰی کوی چی موږ په امامت کی شریك یو. دکلی خلګ کشران وروڼه دمشر ورور درضامندی څخه بغیر په لمونځ ورکولوکی شریك کوی سی که نه؟ اوکشران وروڼه که دمشر ورور درضامندی څخه بغیر لمونځ ورکړی نوپه هغوی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: فقهاوو تصریح فرمایلی ده چی دامام مقررولو حق بانی یادمحلی خلګوته دی، نو دکلی ټولو خلګو چی څوك امام مقرر کی هغه امام سو. کشرانو وروڼو ته دبلوغ څخه وروسته دامامت ددعوی حق په دی بنا باندی چی دهغوی پلار امام وو نه رسیږی، البته که دکلی خلګ هغوی هم دامامت لائق ووینی اوپه امامتی کی یی شریك کړی، نودرسته

= وَإِنْ كَانَ غَيْرُهُ أَوْرَعَ مِنْهُ وَإِنْ كَانَ مُتَبَحِّرًا فِي عِلْمِ الصَّلَاةِ لَكِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَظٌ فِي غَيْرِهِ مِنَ الْعُلُومِ فَهُوَ أَوْلَى ﷺ دَخَلَ الْمَسْجِدَ مَنْ هُوَ أَوْلَى بِالْإِمَامَةِ مِنْ إِمَامِ الْمَحَلَّةِ فَإِمَامُ الْمَحَلَّةِ أَوْلَى كَذَا فِي الْقُنْيَةِ. (عالمګیری مصری، کتاب الصلوٰة الباب الخامس فی الامامة الفصل الثانی ص ۷۰ ج۱، ط. ماجدیه ج ۱ ص ۸۳). ظفیر

([1]). رد المحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۲، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**. ظفیر

([2]).الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**. ظفیر

ده. دمشر ورور رضامندی ضروری نه ده. اولمونځ په هغه ټولو کسانو پسی بغیر کراهته صحیح دی. څوك چی دكلی خلګو مقرر کړی وی. (۱)

دامام رخصتی کول : **سوال**: (۲۱۵) که یو امام سره دامامت دتنخواه اخستلو کله کله د جومات څخه غیر حاضرسی نوڅه حکم دی؟

جواب: په شامی جلد دریم کتاب الوقف کی دی: امام یترك الامامة لزیارة اقربائه فی الرساتیق اسبوعا اونحوه او لمصیبة او لاستراحة لاباس به ومثله عفو فی العادة والشرع (۲). ددی حاصل دادی چی امام ته دخپلو ضروریاتو یا راحت دپاره یوه هفته یادی ته نژدی یعنی دپنځلسو ورځو څخه ترکمو پوری عادةً غیر حاضری عرفًا اوشرعًا جائزده. بیایی مخکی تصریح کړیده چی که په ټول کال کی هفته دوی هفتی غیر حاضر وی نو معاف دی. نو دمسئوله صورة حکم هم ددی څخه معلومول پکاردی چی دامام کله کله غیر حاضری به معاف وی.

په امامت کی وراثت نسته: **سوال**: (۲۱۶) زید دیو جومات امام دی، اوجومات دیو بزرګ دخانقاه سره متصل دی. ددغه جومات اخراجات تیل اوخراغ ددی جومات متولیان په شریکه کوی. زید ددغه خانقاه سجاده (مشر اومتولی) مقرردی. باقی متولیانو تراوسه پوری هغه خپل امام جوړ کړی وو او لمونځ به یی ورپسی کوی. اوس چونکی په هغه کی دشریعت اوخاندان په لحاظ سره ډیری خرابی پیداسوی وی بدعتی هم دی اوهغه دخپلو خپلوانوسره بالکل ورانه کړیده چی دهغه په وجهی سره ډیرمقتدیان دهغه څخه ګرزیدلی اوناراضه دی په هغه پسی لمونځ کول نه غواړی اوپه خپلو خپلوانو کی یوبل سړی کم چی دهغه څخه په علم کی لوړ دی اوبدعتی هم نه دی امام جوړول غواړی. نواوس دغه سجاده (مشر) امامت خپل میراث ګڼی اوپریږدی یی نه. اوسجاده والی (مشروالی) اود حقوقو قدامت دخپل امامت په ثبوت کی پیش کوی. آیا اوس هغه متولیان مقتدیان امام بدلولی سی اوکه نه؟ دمخکنی امام عذر مسموع دی اوکه نه؟

جواب: په امامت کی وراثت نسته بلکی دامام مقررولو حق اول دجومات بانی ته اودهغه اولاد اوخپلوانو ته دی. دهغه څخه وروسته دلمونځ ګذارو اودمحلی داوسیدونکو حق دی چی په هغوی امام مقرر کړی بلکی که چیری دجومات بانی یوسړی امام جوړکی او

(۱). وفی الاشباه ولد البانی اولی من غیرهم آه وسیجیئ فی الوقف القوم اذا عینوا مؤذنا اواماما وکان اصلح مما نصبه البانی فهو اولی. (رد المحتار، باب الاذان ص ۳۷۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

(۲). ردالمحتار. کتاب الوقف. مطلب فی غیبة التی یستحق بها العزل عن الوظیفة وما لا یستحق ص ۵۲۴ ج۳، ط.س. ج ۴ ص ۴۱۹. ظفیر

هغه دامامت صلاحیت نه لری اولمونځ ګذارو دهغه څخه زیات لائق سړی امام مقرر کی نوهم هغه به امام مقرر کیږی ځوك چی لمونځ ګذارو مقرر کړی دی. قال فی الدرالمختار: البانی للمسجد اولی من القوم ينصب الامام والمؤذن فی المختار الا اذا عيّن القوم اصلح ممن عينه البانی. (۱) حاصل داچی کله هغه سابق امام بدعتی سو او دجومات لمونځ کوونکی ددې خرابی په وجه دهغه څخه ناخوښه دی نوهغه معزوله کول اوبل لائق تر اودلمانځه په مسائلو باندی پوه سړی امام مقررول پکاردی. (۲) مخکنی امام ته داحق نسته چی هغه دقوم مقرر کړی امام په مقابله کی خپل ځان دامامت حقدار ګڼی.

دمتعین امام داجازی څخه بغیر بل چاته دامامت حق نسته: سوال: (۲۱۷) په یوجومات کی چی یوځوك اهل سړی مقرروی اودهغه په موجودګی کی یو وخت دهغه څخه زیات افضل سړی دغه جومات ته راسی اودجومات ځوکسان هغه ته دمقرر امام داجازی څخه بغیر دامامت اجازه ورکړی نودهغوی دافعل جائزدی اوکه نه؟ اوداکمه خبره چی مسلّمه ده چی په ډیرو کسانوکی کم سړی چی زیات دفضیلت والا وی، هم هغه دامامت مستحق دی. نوآیا دا استحقاق په هغه جوماتونو کی هم حاصل دی په کموکی چی دمخکی څخه امام مقرر وی اودغه وخت موجود وی؟ اوداسی فضیلت والا ته دجومات دمقرر امام څخه داجازی اخستلو ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: په جومات کی چی کم امام مقرر وی اوپه هغه کی دامامت اهلیت وی نوهم هغه مقرر امام دبل سړی په نسبت دامامت زیات مستحق دی، که څه هم بل سړی افضل او اعلم (زیات عالم) وأقرأ (زیات قاری) وی. لیکن که چیری ځومقتدیانو هغه بل سړی امام جوړکی نوهم څه حرج نسته پکښی. په در المختار اوشامی کی دی: واعلم ان صاحب البيت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غيره مطلقا. قال الشامی قوله مطلقا ای وان كان غيره من الحاضرين من اعلم واقرأ منه وفی التاتارخانية جماعة اضياف فی دار يريد ان يتقدم احدهم ينبغی ان يتقدم المالك فان قدم واحدا منهم لعلمه وكبره فهو افضل (۳) الخ. دعبارت دآخر څخه معلومه سوه چی که چیری زیات فضیلت والا یو مقتدی امام جوړکړی. نوبدیت نسته لیکن ښه دادی چی دمعین امام داجازی څخه بغیر دی امامت ونه سی. فقط والله اعلم

---

(۱). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. کتاب الوقف ص ۵۷۳ ج۳، ط.س. ج۱ ص ۴۳۰. ظفير

(۲). ويكره امامة الخ مبتدع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸، ۵۵۹). ظفير

(۳). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹. ظفير

دغیر اصلح امام معزولی: **سوال**: (٢١٨) عَمرو وایی چی دمدرسی مهتمم یادجومات متولی ته داکلی اختیار حاصل دی چی داوقافو دمال څخه وظیفه اخستونکی بغیر دوجهی اوبغیر دشرعی عذر څخه دخپل منصب تدریس اوامامت څخه لیری کړی که څه هم متولی جوړوونکی دمتولی پردا ناجائز فعل باندی ناراضګی ظاهروی اوهغه منع کوی. اوعمرو دخپلی دعوی په دلیل کی دشامی داعبارت پیش کوی: ولم ار حکم عزله لمدرس وامام ولا لهما، اقول وقع التصریح بذالك فی حق الامام والمؤذن ولا ریب ان المدرس کذلك بلا فرق ففی لسان الحکام عن الخانیة اذا عرض للامام والمؤذن عذر منعه من المباشرة ستة اشهر للمتولی ان یعزله ویولی غیره وتقدم مایدل علی جواز عزله اذا مضی شهر، بیری، اقول هٰذا العزل لسبب المقتضی والکلام عندعدمه قلت وسیذکره الشارح عند المؤیدیة التصریح بالجواز لوغیره اصلح ﷺ. زید وایی چی ددی عبارت څخه هم عذرِ شرعی ثابت دی چی شپږ میاشتی یا یوه میاشت بغیر درخصت څخه یابغیر دخپل قائم مقام مقررولو څخه امام یا مدرس په تکاسل اوتساهل سره حاضر نه دی چی دهغه په وجه سخت نقصان رسیږی. داځه کم عذردی، بغیردشرعی عذرڅخه دخارجونکی ثبوت چیری دی اوپخپله عندعدمه کی ضمیرد: هُ راجع دی دعزل طرف ته یعنی ای عندم العزل. اوآخری عبارت پخپله ددی خبری شاهد دی چی متولی ته محض په خپلی رایی سره اختیار دمعزولولو نسته. په دی صورة کی څوك پرحقه دی؟

جواب: دمذکوره عبارتونو اودغه رکم دنورو عبارتونو څخه واضح کیږی چی دشرعی عذر څخه بغیر متولی اومهتمم ته دمدرس وغیره دمعزولولو اختیار نسته. ها! دشامی ددی عبارت څخه: وقلت وسیذکر الشارح عند المؤیدیة التصریح بالجواز لوغیره اصلح، (١) دامعلومیږی چی دموجوده مدرس اوامام څخه زیات لائق اواصلح ترپیدا سو نواول معزوله کول اودوهم کم چی اصلح دی مقررول درست دی.

تنخواه دار امام داجیر په حکم کی دی: **سوال**: (٢١٩) زید وایی چی دجومات امام نه خو اجیردی نه نوکر، ولی چی هغه ته دوقف مال څخه تنخواه ورکول کیږی. اوعمرو وایی چی دجومات امام اجیر اونوکر دی. په دی دواړو کی دچا قول صحیح دی؟

جواب: کم امام چی دامامت تنخواه اخلی دهغه په اجیر کیدلو کی څه تامل دی. پرامامت باندی اجرت اخستل فقهاوو جائز لیکلی دی. اودوقف مال څخه تنخواه ورکول ددی مقتضی نه دی چی هغه دی اجرت نه وی اوتنخواه داردی اجیر نه وی. آیاکه چیری دوقف

---

(١). رد المحتار. کتاب الوقف ص ..... ج٣ ، ط.س. ج١ ص ٤٢٨.

دتعمير دپاره دوقف دمال څخه دتعمير كار كونكى مقرر سى نوهغوى به اجير (اجرت اخستونكى) نه وى. دعمرو قول په دى كى صحيح دى. فقط

دامام داجازې څخه بغير دبل سړى امام كيدل؟ سوال: (۲۲۰) دكلى اوسيدونكو يوسړى پايبند دصوم اوصلوة عالم، دپنځ وخته لمونځونو اودجمعى اواخترونو اوجنازى دپاره امام مقرر كړى دى څوك چى خپل فرائض برابر ترسره كوى خويو غير سړى دامام داجازى څخه بغير داخترونو خطبه پرمنبر باندى ويل شروع كړى، په علم كى دامام سره ديوې حصې برابر نه دى. بل داچى دادوهم سړى دروژى او لمانځه پايبند نه دى بلكى دشرعى ممنوعاتو مرتكب دى اودنفسانيت په بنا باندى داټول حركتونه كوى. اوس دامام صالح په پريښولو سره دزيد خطبه خوانى تركمه پورى رواكيدى سى. دكم سړى پلار چى دخپل زوى څخه قطعى ناراضه وى اودهغه شكل ليدل هم نه خوښوى اودهغه څخه دنفرت په وجه يى جلا استوګنه اختياركړى وى. آياهغه دجمعى اواخترونوخطبه ويلى سى اوكه نه؟

جواب: قال فى الدر المختار واعلم ان صاحب البيت ومثله امام المسجد الراتب اولى بالامامة من غيره مطلقًا الخ اى وان كان وغيره من الحاضرين من هو اعلم واقرأ منه. ([1]) الخ شامى. ددى روايت څخه معلومه سوه چى دجومات دمعين امام په موجودګى كى بل سړى ته كه څه هم هغه دوهم سړى دمعين امام څخه افضل وى نوبغير دمعين امام داجازى څخه ورباندى امامت كول نه دى پكار. نو كله چى هغه دوهم سړى دامامت لائق هم نه دى بلكى فاسق دى اوامام معين عالم اوصالح دى نوپه هيڅ شان دى دوهم سړى ته درست نه دى چى دضد اونفسانيت په وجه هغه امام جوړسى اوخطبه وايى. دادهغه په جهالت باندى دلالت كوى اوپه فاسق پسى لمونځ مكروه تحريمى دى. كما حققه فى الشامى وشرح المنية وغيرهما. اوكم سړى چى دصوم اوصلوة پايبنده هم نه دى دهغه فاسق كيدل ظاهردى. دغه ركم دپلارنافرمانه فاسق دى لائق دامام كيدلونه دى. اولمونځ په هغه پسى مكروه تحريمى ([2]) دى. فقط

چى كوټ واغوندى نو امامت درست دى اوكه نه؟ سوال: (۲۲۱) كه امام كوټ واغوندى او امامت كوى نودرست دى اوكه نه؟

جواب: امامت دهغه بلا كراهته درست دى. ([3]) فقط

([1]). ردالمحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۲۲ ط.س. ج۱ ص ۵۵۹. ظفير

([2]). بل مشى فى شرح المنية ان كراهة تقديمه (اى الفاسق) كراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص۵۲۵ ج۱). ظفير

([3]). يجب على المصلى ان يقدم الطهارة من الاحداث والانجاس الخ ويستر عورته لقوله تعالى خذوا زينتكم عند كل مسجد الخ هداية باب شروط الصلوة ص ۸۷ ج۱، ردالمحتار ط.س. ج۱ ص ۲۵۰). ظفير

دغیر حاضری دورځو تنخواه امام اخستی سی اوکه نه؟ سوال: (٢٢٢) آیا تنخواه دار امام چی دهغه تنخواه دجومات دوقف سوی جایداد څخه ورکول کیږی په څه عذر سره یابغیر دعذر څخه دنیمی میاشتی څخه کم دامامت کار تر سره نه کړی نودهغه دپوره میاشتی تنخواه اخستلو شرعاً مستحق دی دجومات امام دادلیل پیشوی او دغائب والی دمودی برابره تنخواه اخلی: فی القنیة عن باب الامامة امام لوترك لزیارة اقربائه فی الرساتین اسبوعًا اونحوه اولمصیبة اولاستراحة لاباس به عفو فی العادة والشرع وهٰذا مبنی علی ان القول بان خروجه لاقل من خمسة عشر یومًا بلاعذر شرعی لایسقط معلومه علی هٰذا انابت ادون ومساوی بلا اجازة قیم مسجد، څخه استدلال کوی اوپه استدلال کی دقنیه دعبارت په پیش کولو سره تنخواه دغائب والی اخستل غواړی. دا اخستل او ورکول جائزدی که نه؟

جواب: فی الشامی وقد ذکر فی الاشباه فی قاعدة العادة محکمة عبارة القنیة هذه (١) وحملها علی ان یسامح اسبوعًا فی کل شهر (٢) الخ وقد ذکر روایات جواز الاستنابة ایضًا فلیطالع ثمه. حاصل دجواب دادی چی اَلمعروف کالمشروط نو څومره غائب والی چی معروف وی دهغه تنخواه اخستل درست دی اوانابت هم درست دی. فقط

افضل دی امام جوړسی؟ سوال: (٢٢٣) زید حاجی دی اودپنځه وخته لمونځ ډیر پابینددی اودزید دری زامن دی یوړیره نه خروی بلکی اوږده ږیره یی ده په شرعی لباس کی دزید په شان دی اودوه ږیره خروی زید اودری زامن یی په دوکانداری کی په دروغ ویلو سره سودا خرخوی نوپه داسی حالت کی زید اودهغه زامن امامت کولی سی اوکه نه؟

دریږی لنډونکی امامت: **سوال**: (٢٢۴) زیدحافظ دی دروژی اولمانځه پابینده دی. خوږیره څه قدر لنډوی. دیوی ګوتی په اندازه یی ساتی. په دی حالت کی په زید پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ که څوك مولوی هغه ته په ډله کی ووایی چی دافاسق دی اومرتد دی نوڅه حکم دی؟

جواب: (١) په زید کی اودزید په زامنو کی چی څوك دروژی اولمانځه پابیندی اوظاهرًا دفسق څه علامه په هغه کی نه وی نو دهغه امامت بغیر کراهته درست دی. اوکه دفسق څه خبره په هغوی کی وی نوامامت دهغوی مکروه (٣) دی.

---

(١). دهغه عبارت طرفته اشاره ده کم چی سائل په سوال کی دقنیی په حوالی سره نقل کړیدی. علامه شامی هم دغه عبارة بعینه ددی څخه مخکی نقل کړی دی (وګوری ردالمحتار کتاب الوقف ص ٧٢۴ ج٣). ظفیر

(٢). رد المحتار کتاب الوقف مطلب فی الغیبة التی یستحق بها العزل الخ ص ٥٢۴ ج٣ ط.س. ج۴ ص ۴١٩. ظفیر.

(٣). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص٥٢٣، ط.س. ج١ ص =

(۲) ديوموټ څخه کمه ږيره لنډول يعنى دومره لنډول چى دموټ څخه کمه پاته سى منع دى. په داسى ږيره خريونکى اولنډوونکى باندى دفسق اطلاق صحيح دى، هغه فاسق دى. مرتد اوکافر ويل ورته حرام اوناجائز (۱) دى اوپه مرتد ويلوکى سخته ګناه ويونکى ته ده اودفاسق امامت مکروه دى. لمونځ ورپسى سره دکراهته اداکيږى، اومرتد ويونکى مولوى دسخت معصيت اوګناه کبيرى مرتکب دى. هغه په دى وينا سره فاسق سو، توبه دى وکاږى (۲). فقط

دنکاح قاضى په موجود ګى کى دبل سړى امامت درست دى که نه؟ سوال: (۲۲۵) دقاضى په موجودګى کى بل سړى ته امامت کول درست دى اوکه نه؟ **جواب**: په دى زمانه کى شرعى قاضى نسته. دى قاضيانو ته کم چى اوس موجوددى دامامت وغيره هيڅ حق نسته. امام اومؤذن مقررول اولاً دجومات دبانى اوواقف حق دى، دهغه څخه وروسته دهغه په اولاد کى چى کم اهل وى دهغه حق دى دهغوى څخه وروسته چى دمحلى يانبار خلګ څوك امام مقرر کړى هغه به امام وى. کذا فى الدر المختار وشامى (۳). فقط

دنکاح قاضى ته دامامت هيڅ شرعى استحقاق نسته: سوال: (۲۲۲) چى دقاضى دامامت څخه څه خلګ منکره وى اوڅه متفق وى اوقاضى مصروى نوقاضى په حقه دى اوکه نه؟ **جواب**: عرفى قاضى ته په دى باره کى څه خاص استحقاق نسته بلکى دمخکنى تفصيل موافق بانى ته يادهغه وارثانو ته يا دمحلى خلګو ته ددى استحقاق دى چى هغوى څوك وغواړى مقرر دى کړى. (۴) فقط

دقضا مخکى سند په دى وخت کى په کار نه راځى: سوال: (۲۲۷) دقاضى په سند کى اقامت دجمعى اواخترونو اوجماعت اوترغيب اوتحريض دخلګو پرطاعاتو اوعباداتو مذکوردى، ددى څخه څه مراد دى؟

= ۵۵۹ – ۵۲۰). ظفير

(۱). ولاباس بنتف الشيب واخذ اطراف الحية والسنة فيها القبضة الخ ولذا يحرم على الرجل قطع لحيته (الدر المختار على هامش رد المحتار کتاب الحضر والاباحة فصل فى البيع ص ۳۵۹ ج۵، ط.س. ج۲ ص ۴۰۷). ظفير

(۲). وعزر الشاتم بياکافر وهل يکفر ؟ ان اعتقد المسلم کافرا نعم والا لا، به يفتى (ايضًا باب التعزير ص ۲۵۳ ج۳). ظفير

(۳). ولاية الاذان والاقامة لبا فى المسجد مطلقاوکذا الامامة لوعدلا (درمختار) وفى الاشباه ولد البانى وعشيرته اولى من غيرهم اه وسيجى فى الوقف ان القوم اذا عينوا مؤذناواماما وکان اصلح ممانصبه البانى فهو اولى وذکره فى الفتح عن النوافل واقره اه (درمختار. باب الاذان ص ۳۷۲، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفير

(۴). ولاية الاذان والاقامة لبانى المسجد مطلقا وکذا الامامة لوعدلا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۳۷۲ باب الاذان، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفير

جواب: کم وخت چې به داسلامی بادشاهانو دطرف څخه قاضیان مقرر کیدل دابه هغه وخت لیکل کیدل. اوس هغوی ته څه خاص حق په دی باره کی نسته اوتحریص اوترغیب دطاعاتو طرف ته واعظان داسلام کوی. فقط

دامام اومؤذن دانکار په وخت کی نیابت: **سوال**: (۲۲۸) که چیری قاضی دامامت څخه او خطیب دخطبې څخه اومؤذن داذان څخه انکاروکی نوقوم ته دنائب طلب کولو حق حاصل دی اوکه څنګه. او متولی ته دوقف سوی مزکی دمَا حَصَل (حاصلاتو) څخه دامام وغیره مقررولو اختیار سته اوکه نه؟

جواب: داحق دبانی وغیره څخه وروسته دمحلی خلګو ته مخکی دی قاضی ته ددی څه استحقاق نسته (۱). البته که یوځوك بانی متولی جوړ کړی وی هغه به موافق دشرائطو دوقف کوونکی دراتلو انتظام کوی. فقط

په نابینا عالم اوبینا عالم کی احق بالامامت څوک دی؟ **سوال**: (۲۲۹) یوسړی نابینادی لیکن عالم دی، اومحتاط دی، بل سړی بینا دی خوعالم نه دی، نوآحق بالامامت څوك دی؟

جواب: که ړوند سړی عالم وی نوحق دامامت هغه ته دی. شامی جلد اول، تبع فی ذالك صاحب البحر حیث قال قیّد کراهة امامة الاعمی فی المحیط وغیره بان لا یکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی (۲).

مولوی احق بالامامت دی اوکه حافظ دقرآن؟ **سوال**: (۲۳۰) داختر دلمانځه په باره کی په مسلمانانوکی اختلاف پیداسو. بعضو ویل چی داختر لمونځ به امام صاحب راکړی څوك چی دهمیشه څخه امام دی اولمونځ ورکوی اوبعضو ویل چی داختر لمونځ به حافظ صاحب ورکوی چاچی په رمضان شریف کی په تراویحو کی قرآن را اورولی دی اووایی چی دحافظ صاحب په موجودګی کی په امام صاحب پسی لمونځ نه کیږی، آخر داچی امام صاحب لمونځ ورکی اوحافظ صاحب نیت مات کی اوولاړی، په داسی صورة کی څه کول پکاردی؟

جواب: تفرقه په مسلمانانو کی بده ده، لمونځ په حافظ صاحب پسی هم کیږی، او په امام

---

(۱). البانی للمسجد اولی من القوم بنصب الامام والمؤذن فی المختار الا اذا عین القوم اصلح ممن عینه البانی (درمختار) وکذا واولاده وعشیرته اولی من غیرهم (ردالمحتار کتاب الوقف ص ۵۷۳ ج ۳، ط.س. ج۱ ص ۴۳۰) اوالخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸). ظفیر

(۲). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰. ظفیر

صاحب پسی هم. نفسانیت بدشی دی، ځوك چی دنفسانیت په وجه دجَمعی څخه جلاسو، اونیت یی مات کی اوولاړی هغه بد وکړل اوګناهګار سو. توبه دی وکاړی. اوټولو ته په خپل مابینځ کی په اتفاق سره اوسیدل پکاردی اوپه اتفاق سره امام مقررول پکاردی. ([1])
(په قاعده کی عالم احق بالامامت دی، او الاحق بالامامة تقدیما بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوٰة فقط صحةً وفسادًا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة ؒ درمختار. ظفیر)

پرامام باندی دمقتدی رعایت: **سوال:** (٢٣١) کم امام چی دقرآئت ختمولو څخه وروسته رکوع ته دتللو په وخت کی لفظ دالله اکبر دومره اوږد وایی چی اکثره لمونځ ګذار دهغه څخه مخکی رکوع ته ولاړسی آیاپه داسی صورة کی دمقتدیانو درعایت دپاره دمعمولی قرآئت اوتاخیرکولوڅخه بغیررکوع ته تلل پرامام باندی واجب دی اوکه نه؟ اودمقتدیانو رعایت حتٰی الوسع کول مستحب دی اوکه نه؟

جواب: بیشکه دمقتدیانو رعایت په داسی موقع باندی مناسب دی اوتکبیر دی زیات نه اوږدوی بلکی مختصر دی یی کړی دپاره ددی چی دمقتدیانو تکبیر مخکی ختم نه سی. اومقتدیانو ته مناسب دی چی وروسته تکبیر شروع کړی دپاره ددی چی پرامام باندی مخکی والی رانسی. ([2])

په دینداره حافظ اونیم ملا فاسق کی احق بالامامة څوک دی؟ **سوال:** (٢٣٢) زید په کوچنی والی کی قرآن کریم حفظ کی همیشه تلاوت کوی اوما تجوز به الصلوٰة ښه پیژنی اود تجوید په قواعدو هم خبردی اونیك صالح دی دهغه دامامت څخه ټول لمونځ ګذار خوشحاله دی، په هغه پسی لمونځ جائز دی که نه؟ اوعمرو مشکوٰة، هدایه دویلو څخه وروسته هیرکړی دی اولمونځ ګذار دهغه په امامت خوشحاله نه دی اوشطرنج کوی. او اکثره دجُمعی په ورځ جَمعه پریږدی اوښکار ته ولاړسی. په داسی سړی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دی دواړو کی داول سړی امامت ښه دی. اوپه دوهم پسی لمونځ مکروه دی ([3])

([1]). ښه خوداده چی په متفقه طور باندی دامام انتخاب وسی دپاره ددی چی څه اختلاف لاره نه کړی پیدا. لیکن که چیری اختلاف پیداسی نوپر اکثریت باندی فیصله کول پکاردی اوبیا ټولو ته داکثریت فیصله تسلیمول پکاردی. فان استووا یقرع بین المستوین اوالخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم ولو قدموا غیر الاولی اساءوا بلا اثم. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **٥٢٢** ج١، ط.س. ج١ ص **٥٥٨**). ظفیر

([2]). عن انس ؓ صلی بنا رسول الله ﷺ ذات یوم فلما قضی صلوته اقبل علینا بوجهه فقال ایها الناس انی امامکم فلا تسبقونی بالرکوع ولا بالسجود ولا بالقیام ولا بالانصراف رواه مسلم، (مشکوٰة باب ما علی الماموم من المتابعة ص ١٠١). ظفیر

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص **٥٢٣** ج١، ط.س. ج١ =

هٰکذا فی کتب الفقه.

داغلطه ده چي صرف سادات دامامت مستحق دي: **سوال**: (۲۳۳) بعضی خلگ وایی چی ماسوٰی دسیدانو څخه بل څوك دامامت مستحق نه دی. داویل صحیح دی اوکه غلط؟

جواب: داغلطه ده چی ماسوا دسیدانو څخه بل څوك دامامت مستحق نه دی. دامامت استحقاق پرعلم اوفضل اوتقوٰی باندی دی. اوکم سړی چی دمسائلو څخه خبر وی احق او ښه بالامامت دی کما فی کتب الفقه ([1]). فقط

په لاندینیو دری کسانو کی دامامت لائق څوک دی؟ **سوال**: (۲۳۴) زید، عمرو، اوبکر دری واړه په یوځای کی کار کوونکی دی. زید په سواریو کی. عمرو په سپاهیانو کی. بکرپه ستار غړولوکی. زید حافظ دی اوله طوائفی (ډمی) څخه پیداسوی دی. دروژی اولمانځه پابینددی. دشرعی ممنوعاتو څخه ځان ساتی. اخلاق یی ښه دی. دعمرو تلفظ درست نه دی. کوچنی کوچنی سورتونه هم نه وایی. دروژی اولمانځه پابیند دی. اوبکر هم دروژی اولمانځه پابینددی خودستار غړولو کسب کوی. قرآن کریم صحیح وایی. په دی درو واړو کی دامامت مستحق څوك دی؟

جواب: په دی دری واړو کی زید احق بالامامت دی. اوکه چیری زیدنه وی اوعمرو اوبکر موجود وی نوبکر که څه هم فاسق دی په وجه دحرام کسب، لیکن که عمرو په قرآن کریم ویلوکی داسی غلطی کوی چی په هغه سره لمونځ فاسدیږی نوبکر ته امام کیدل پکاردی ځکه چی هغه قرآن کریم صحیح وایی.

که څه هم امامت دفاسق مکروه دی خوپه هغه پسی لمونځ کیږی په خلاف دعمرو چی په هغه پسی دلمانځه فاسد کیدلو بیره ([2]) ده.

افضل ترخپل ځان په کم فضلیت والا سړی پسی اقتداء وکړی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۳۵) زید جَمعه ورکوی اوتر هغه افضل خلگ راغلل نوپه جمعه کی دی شریك سی اوکه نه؟ او لمونځ خوبه یی مکروه نه وی؟

جواب: په لمانځه کی به یې هیڅ کراهت نه وی اوپه جمعه شریکیدل پکار دی. ([3])

= ص ۵۵۹). ظفیر

([1]). والاحق بالامامة تقدیما بل نصب الاعلم باحکام الصلوة فقط صحةً وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۱۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

([2]). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفساد الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷).

([3]). ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقا (درمختار) ای وان کان غیره من الحاضرین من هو =

دقوم دخوښی څخه خلاف امام جوړول: **سوال**: (۲۳۶) آیا عدالت ته څه شرعی حق حاصل دی چی په زور سره دقوم داسی امام مقرر کړی چی قوم دهغه په امام جوړولو باندی رضامند نه وی؟

جواب: عدالت ته داحق نسته. ولی چی ددی نفع اونقصان قوم ته دی. لهٰذا دقوم درضا مندی څخه بغیر دی عدالت دهغوی دپاره هیڅوك امام نه مقرروی. اوعدالت ته په دی کی هیڅ حق نسته. کما مر ان منفعة ذٰلك ترجع الیهم (۱). فقط

اذان اوامامت یوسړی کولی سی: **سوال**: (۲۳۷) که چیری یوسړی اذان اوامامت کوی نو جائزدی اوکه نه؟

جواب: که یوسړی اذان وایی اوامامت هم کوی نودا په شریعت کی درست دی بلکی په دی کی ثواب زیات دی. (۲)

په خطبه کی دنیابت مسئله: **سوال**: (۲۳۸) مخکنی خطیب په خپل ژوند کی دورور په موجودوالی کی خپل وراره خپل نائب مقرر کی. ترپنځو شپږو کالو پوری یی دنیابت خدمت په ډیر دیانت سره ترسره کی. اوس مخکنی خطیب صاحب وفات سو اویوه لور ځینی پاته سوه، هغه دخپل طرف څخه نائب مقررولی سی اوکه نه؟

خطیب دورور په موجودوالی کی وراره نائب مقرر کړی دی اوجماعت منظور کړی دی. اوس یی ورور دعویدار دی، دهغه دعوٰی صحیح ده اوکه نه؟

جواب: سابق خطیب چی څوك په خپل ژوندکی امام مقررکی اوقوم اوجماعت هغه منظور کی، هم هغه امام مقرر سو، ولی چی په حقیقت کی دامام مقررولو اختیار دبانی اودهغه داولاد څخه وروسته قوم اوجماعت ته دی لهذا څوك چی قوم امام تسلیم کی هغه امام سو. اوس به دهیڅچا دعوٰی صحیح نه وی. نه دلور اونه دورور. ولی چی په دی کی میراث نه جاری کیږی. (۳)

= اعلم واقرأ منه. (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۱). اوالخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم الخ وأم قوما وهم له کارهون لفساد فیه الخ کره له ذلك تحریما لحدیث ابی داود لا یقبل الله صلاة من تقدم قوما وهم لهم کارهون. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸). ظفیر

(۲). الافضل کون الامام هو المؤذن وفی الضیاء ان علیه السلام اذن فی سفر بنفسه وقام وصلی الظهر وقد حققناه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الاذان ص ۳۷۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۱). ظفیر

(۳). ولایة الاذان والاقامة لبانی المسجد مطلقا وکذا الامامة لوعدلا (درمختار)، (سیجیئ فی الوقف ان القوم اذا عینوا مؤذنا واماما وکان اصلح مما نصبه البانی فهو اولی. (ردالمحتار باب الاذان ص ۳۷۲ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

چاچی دفرضو څخه مخکی سنت مؤ کد ونه کړه هغه امام کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۲۳۹) که چیری امام دجمعی څخه مخکی سنت مؤکد ونه کړه، نوامام کیدی سی اوکه نه؟ دمقتدیانو په لمانځه کی خوبه څه فرق نه راځی؟

جواب: دغه سړی امام کیدی سی. اودمقتدیانو په لمانځه کی به هیڅ کراهت اوخلل نه وی. (۱) فقط

دصبح صادق څخه مخکی اذان او ورپسی فوراً جماعت: **سوال**: (۲۴۰) یوغیر مقلد بی علمه اوشری اوسخت طبیعته دی په دی وجه دمحلی خلګو په جومات کی لمونځ کول پریښوول اوسره ددی چی امام طالب العلم ولایتی اوحنفی دی خودزید په غوښتنه سره امام په لمانځه کی رکوع اوسجده اوقومه اوجلسه ښه اوږدوی اودسهار اذان دصبح صادق څخه شل منټه مخکی وربانذی وایی، دسهار کیدو سره لمونځ یوازی یاکه یو سړی دوه راسی نودهغوی سره پرامام په زور اچولو سره وکړی. نورو مقتدیانو ته څه کول پکاردی؟ هغوی دوهمه جمعه بیرته وکړی اوکه بل جومات ته ولاړسی؟

جواب: دصبح صادق څخه مخکی داحنافو په نزد دسهار اذان جائز نه دی. الا فی روایة الثانی ای ابی یوسف رحمه الله. (۲) اواسفار دسهار په لمانځه کی سنت دی. (۳) نو مقتدیانو ته پکاردی چی امام ته ددی خبرو وینا وکړی. که هغه یې ونه منی نوهغه دی لیری کړی. اوکه په دی کی فتنه وی نوپه بل جومات کی دی لمونځ کوی. فقط

دلمانځه دمسائلو څخه ناخبره حافظ او دمسائلو څخه خبر ناظره ویونکی کی دامامت لائق څوک دی؟ سوال: (۲۴۱) زید حافظ دی اودهغه ښځی بی پردی، اودضروری مسائلو څخه په ښه ډول خبر نه دی. عمرو ناظره خوان دی، قرآن کریم صحیح وایی اودضروری مسائلو څخه په نسبت دزید زیات خبردی اودهغه ښځی پرده داری دی. په دی حالت کی دامامت زیات حقدار څوک دی؟

---

(۱). والاحق بالامامة الخ الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفساد بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة الخ ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقًا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، باب الامامة ص ۵۲۰ ج ۱، ط. س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۲). فیعاد اذان وقع بعضه وکذا کله بالاولی قبله کالاقامة خلاف للثانی فی الفجر (درمختار) قوله خلاف للثانی هو راجع الی الاذان فقط فان ابایوسف یجوز الاذان قبل الفجر بعد نصف اللیل. (ردالمحتار باب الاذان ص ۳۵۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۳۸۵). ظفیر

(۳). والمستحب للرجل الابتداء فی الفجر باسفار والختم به هوالمختار (درمختار) لقوله ﷺ اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر رواه الترمذی واحسنه وروی الطحاوی باسناد صحیح (ردالمحتار کتاب الصلوة ص ۳۳۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۳۲۲). ظفیر

جواب: په دی حالت کی عمرو دامامت زیات لائق دی که څه هم په زید پسی هم لمونځ صحیح دی خو په عمرو پسی زیات ښه دی. (۱)

په فقیر اوسید کی احق بالامامت څوک دی؟ **سوال**: (۲۴۲) په یوجومات کی دقوم امام فقیر دی. دهغه په کورکی پرده نسته، په بل جومات کی امام سید دی اودهغه په کورکی پرده سته، خوهغه نابینا دی. دجمعی په لمانځه کی کم امام ته ترجیح ده؟

جواب: دامامت دپاره افضل هغه سړی دی چاته چی دلمانځه مسائل معلوم وی، او صالح اومتقی وی. په ړندوالی سره په امامت کی هیڅ حرج نسته، کله چی هغه نیك اومحتاط وی اودمسائلو ښخه خبر وی. نوکه چیری دغه امام دمسائلو ښخه خبروی اونیك وی نود جمعی امامت دپاره هم هغه زیات ښه دی. (۲)

په امامت کی ترجیح: **سوال**: (۲۴۳) زید عالم، طبیب اوحافظ دی، اوعمرو حافظ قاری په سبعه قرآئت پوهیدونکی، مشکوٰة، هدایه، اوجلالین یی ویلی دی. دتراویحو دامامت دپاره څوك ښه دی؟

جواب: په دی دواړو کی عمرو دتراویحو اونورو امامت دپاره زیات مستحق دی اوزیات ښه دی ځکه چی هغه ددین دعلم حاصلولو سره قاری هم دی. (۳) فقط

دخوش آوازه قاری امامت: **سوال**: (۲۴۴) یوسړی وایی چی په خوش آوازه قاری پسی لمونځ کول ښه دی اوتوجه دهغه قرآئت ته وی بل هیڅ طرفته توجه نه ځی تردی چی دخدای اورسول طرفته هم خیال نه ځی. دهغه داویل صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دهغه داویل غلط دی. لمونځ په قاری پسی افضل دی، اوخوش آوازی بیله خوبی ده چی ددی هم تعریف په حدیثونو کی راغلی دی.

په دی دواړو کی دچا امامت ښه دی؟ **سوال**: (۲۴۵) کله چی په جامع مسجد کی یوموروثی اودشریعت پابندی نه کوونکی، اوپه بل جومات کی دشریعت پابند حافظ

---

(۱). والاحق بالامامة تقديمًا بل نصبا الاعلم باحكام الصلوة فقط صحةً وفسادا بشرط اجتنابه الفواحش الظاهرة الخ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفير

(۲). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلوة فقط صحةً وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ۵۵۷) قيد كراهة امامة الاعمٰى فى المحيط وغيره بان لايكون افضل القوم فان افضلهم فهو اولى آه. (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفير

(۳). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلاة الخ ثم الاحسن تلاوة وتجويدا (درمختار) افاد بذالك ان معنى قولهم اقرأ اى اجود لا اكثرهم حفظا ومعنى الحسن فى التلاوة ان يكون عالما بكيفية الحروف والوقف وما يتعلق بها قهستانى. (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفير

اودلمانځه دمَسائلو څخه په ښه ډول خبر آزاد امام لمونځ ورکوی نوپه کم ځای کی لمونځ اکمل او افضل دی؟

جواب: دامامت دپاره افضل هغه سړی دی څوك چی دلمانځه دمسائلو څخه خبر دی او حافظ اوصالح دی. (۱) لیکن دکمو خلکو په محلي کی چی کم جومات وی په هغوی باندی دخپلی محلی دجومات حق زیات دی. اودهغه محلی دخلکو دپاره دمحلي په جومات کی لمونځ کول ښه دی او هغوی ته به په هم هغه جومات کی دجمع ثواب ورکول کیږی. (۲)

دریم فصل

دچا امامت صحیح دی او دچا دا نه دی صحیح

که څوک چاته حرام زاده ووایی نودهغه امامت څنګه دی؟ سوال: (۲۴۶) یوسړی معروف النسب اوثابت النسب ته حرام زاده ووایه اونامناسبه ښکنځل یی ورته وکړل، هغه شرعًا فاسق ګرځی اوامامت یی جائزدی اوکه نه؟

جواب: دهغه په فسق کی اودامامت په کراهت کی کلام نسته. الا ان یتوب کذا فی کتب الفقه. (۳)

دغسال اوذابح امامت: **سوال**: (۲۴۷) دغسال (نورو ته غسل ورکوونکی) اوذابح (حلالوونکی \ قصاب) امامت درست دی اوکه نه؟

جواب: دغسال اوذابح امامت درست دی، لمونځ په هغه پسی جائزدی، هیڅ کراهت پکښی نسته. (۴) فقط

څوک چی خلورو مذهبونو ته ګمراهی وایی دهغه امامت: **سوال** : (۲۴۸) څه فرمایی ددین

---

(۱). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلاة فقط صحة وفسادًا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقیل واجب وقیل سنة (درمختار) وهو الاظهر لان هٰذا التقدیم. ط.س ج۱ ص **۵۵۷**.

(۲). مسجد المحلة افضل من الجامع الا اذاکان امامه عالما (الاشباه) لعل الافضیلة بالنسبه الی اهل المحلة دون غیرهم لئلا یؤدی الی تعطیل مسجد المحلة (شرح حموی الفصل الثانی کتاب الصلوة ص **۱۹۵**). ظفیر

(۳). ویکر تقدیم الفاسق ایضًا لتساهله فی الامور الدینیة فلا یؤمن من تقصیره فی الاتیان بالشرائط (غنیة المستملی ص **۳۵۱**). ظفیر

(۴). ذبحه کول اومړی ته غسل ورکول دواړه کارونه جائزدی، برابره خبره ده که په اجرت سره وی اوکه بی اجرته وی. مړی ته دغسل ورکولو په سلسله کی په درمختارکی دی والافضل ان یغسل المیت مجانا فان ابتغی الغاسل الاجر جاز ان کان ثم غیره والا لا، لتعینه علیه وان یکون حکم الحمال والحفار کذالك (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار. باب الجنائز ص ۸۰۴ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص **۲۹۹**) اوذبحی په سلسله کی دی: ویجوز الاستیجار علی الذکاة لان المقصود منها قطع الاوداج دون افاتة الروح وذالك یقدر علیه فاشبه القصاص فیما دون النفس کذا فی السراج الوهاج. (عالمگیری کتاب الاجاره باب سادس عشر ص ۴۳۸ ج ۴، ط.س. ج۴ ص ۴۰۴). ظفیر

عالمان دهغه سړی په باره کی دچا عقیده چی په لاندینیو اشعارو کی درج ده:

بجان نفـــــور زاهـــل مذاهب شتی — که غرق بحر ضلال اند وحرق نار هوا
نه شافعی نه حنفی نه مالکی مذهب — نه نقـشبندی وچشتی ونی کذا وکذا
منم که غرۂ نامم بنام صاحب نشست — علی ولـــی ملــقب بخــاتم الخـــلفـاء

په داسی سړی پسی په لمانځه کی اقتداء جائزده اوکه نه؟

جواب: که داواقعی دده عقیده وی اومذاهب اربعه اوطریقی دمشائخ اربعه ضلال او ګمراهی ګڼی اوددی معتقد دی نودی فاسق اومبتدع دی، په ده پسی لمونځ مکروه تحریمی دی. اوعجیبه نه ده چی داسی سړی دنصوص قطعیه وو څخه دانکارپه وجه کفر اوارتداد ته رسیدلی وی. په داسی حالت کی به په ده پسی لمونځ صحیح نه وی. بهرحال دده داقتداء څخه ځان ساتل لازم دی اوداسی امام معزوله کول لازم اوواجب دی. ([1]) فقط

<u>**دمتعی کونکی امامت**</u>: **سوال**: (۲۴۹) یوحنفی سړی په عدالت کی په قسم سره بیان کوی چی ما دیوی ښځی سره دنکاح په عهد باندی متعه وکړه. داسی سړی په حنفی مذهب کی داخل پاته سو اوکه نه؟ اوپه ده پسی لمونځ کول څنګه دی؟ اوده چی دیوبزرګ په لاس باندی بیعت کړی وو هغه قائم پاته سو اوکه نه؟ اوداسی سړی تجهیز اوتکفین او (دجنازی) لمونځ کول پکاردی اوکه نه؟

جواب: کم سړی چی ددی بدفعل اقرار کونکی دی، هغه فاسق اوعاصی دی، امامت دهغه مکروه دی. ([2]) که چیری هغه توبه وکاړی نوامامت یی درست دی اوبیعت اوحنفیت یی قائم دی، اوتجهیز اوتکفین اودجنازی لمونځ دهریوه مسلمان کول پکاردی که څه هم هغه فاسق اوبدکار وی. کما فی الحدیث. صلوا علی کل بر وفاجر، الحدیث. ([3]) فقط

<u>**دزانی اوسګریټ څکونکی امامت**</u>: **سوال**: (۲۵۰) دوه کسان ددوو جوماتونو امامان دی. یوه یی دخپلی خښنی سره زنا وکړه، اوبل بیړی (یوخاص قسم سګریټ) څکوی، ددوی امامت درست دی اوکه نه؟ که چیری دوی دامامت څخه بندسی نودلوی فساد جوړیدلو خطره ده.

([1]). ویکره امامة العبد الخ والفاسق الخ والمبتدع الخ (درمختار)اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لا یهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعا ولا یخفی انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول العلة فلا یؤمن ان یصلی بهم بغیر طهارة فهو کالمبتدع تکره امامته بکل حال، بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰). ظفیر

([2]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

([3]). شرح فقه اکبر ص ۹۲. ظفیر

جواب: په فاسق پسی لمونځ کیږی خومکروه دی. ([1]) نوکله چی دفاسق امام په لیری کولو کی فتنه وی نوپه هغه پسی لمونځ وکړی. فقط

دنابینا امامت: **سوال**: (۲۵۱) په نابینا پسی لمونځ درست دی اوکه نه ؟

جواب: که دپلیتیۍ څخه محفوظ اوسی اودلمانځه په مسئلو خبرداره وی نوامامت دهغه درست دی ([2]). فقط

دچا زامن چی د ګناه کارونه کوی دهغه امامت: **سوال**: (۲۵۲) دیو سړی څلور زامن دی، یو لمونځ ګذار دی اوبعضی شراب چیښی اویو دډرامو کارکوی. داسړی ددغه زامنو سره تعلقات ساتی اوخوراك چښاك ټول یوځای کوی. ددی سړی امامت جائزدی اوکه نه؟

دشطرنج دلوبه کونکی امامت: **سوال**: (۲۵۳) دشطرنج لوبه کول څنګه دی. اودشطرنج کونکی امامت جائز اودرست دی اوکه نه؟

جواب: (۱) که چیری دغه سړی پخپله نیك اودامامت لائق وی نودهغه په امامت کی هیڅ کراهت نسته بلکی هغه په صورة دآحق بالامامت کیدلو کی لائق تردی دامام جوړیدلو. قال الله تعالٰی ولا تزر وازرة وزر اخرٰی، الاٰیة.

(۲) په شطرنج سره لوبی کول دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد مکروه تحریمی ([3]) دی. نوددی عادت کوونکی لائق دامام جوړولو نه دی.

دسائل امامت: **سوال**: (۲۵۴) کم سړی چی سوال کوی اومړی ته غسل ورکوی په هغه پسی لمونځ درست اوصحیح اوجائزدی که نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی صلوا خلف کل بر وفاجر، یعنی په هرنیك اوبدپسی لمونځ کوی. ددی څخه معلومه سوه چی په سوالګر اومړی لمبونکی وغیره پسی لمونځ صحیح دی البته اولی بالامامت هغه دی څوك چی دلمانځه دمسائلو څخه خبروی او صالح وی. دشرعی خلاف کارونه نه کوی. فقط

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ وفی المحیط صلی خلف فاسق او مبتدع نا ل فضل الجماعة (در مختار) افاد ان الصلاۃ خلفهما اولی من الانفراد (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲**) که بل جومات وی نوهلته دی ولاړسی. وفی غیر الجمعة یجوز ان یتحول الی مسجد اٰخر ولا یاتم به (عالمګیری مصری. باب خامس فصل ثالث ص ۸۱ ج۱، ط. ماجدیه ج ۱ ص ۸۲). ظفیر

([2]). ویکره تنزیها امامة عبد الخ واعمٰی (درمختار) قید کراهة امامة الاعمی فی المحیط وغیره بان لا یکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی الخ ورد فی الاعمی نص خاص هو استخلافه ﷺ لابن ام مکتوم وعتبان علی المدینة وکانا اعمیین لانه لم یبق من الرجال من هو اصلح منهما الخ (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۲**). ظفیر

([3]). ویکره تحریما اللعب بالنرد وکذا الشطرنج (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الحظر والاباحة ص ۳۴۷ ج**۵**) ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار، ط.س. ج۱ ص **۵۲۰**). ظفیر

دبواسیرو والا امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۷۵۵) یوسړی ته دخونی بواسیرو مرض دی اوهروخت دهغه دجاری کیدلو بیره وی، دداسی سړی امامت سره دتندرست امام دموجود والی درست دی اوکه نه؟

جواب: دوینی جاری کیدلو په بیری سره دغه سړی شرعًا معذور کیدی نه سی. شرعًا معذور هغه وخت کیږی چی هغه ته دلمانځه په ټول وخت کی دومره موقع ورنه کول سی چی اودس وکړی اوبغیر ددغه مرض دبی اودسی څخه لمونځ وسی. کله چی دی لامعذور سوی نه دی، نوامامت یی درست دی، څه کراهت په دی وجهی سره دده په امامت کی نسته. اوکم وخت چی دی معذور سی نوهغه وخت دتندرستو امام کیدی نسی، دغه وخت امامت دده په وخت دعذرکی بالکل ناجائزدی، قال فی الدر المختار وصاحب عذر من به سلس البول الخ ان استوعب عذره تمام وقت صلٰوة مفروضة بان لایجد فی جمیع وقتها زمنًا یتوضأ ویصلی فیه خالیًا عن الحدث الخ وهٰذا شرط العذر فی حق الابتداء وفی حق البقاء کفٰی وجوده فی جزء من الوقت ولومرة، درمختار وشامی (۱) جلد اول ص ۲۰۳، وفی باب الامامة منه ولا طاهر بمعذور هٰذا ان قارن الوضوء الحدیث الخ وصح لو توضأ علی الانقطاع وصلی کذالك کاقتداء بمفتصد من خروج الدم الخ. شامی جلد اول ص ۳۸۹. (۲) فقط

ددروغوحدیث دبیانونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۷۵۶) یوسړی ددروغو احادیث جوړوی اوبیانوی اودعقائدو خلاف ډیری خبری بیانوی. په داسی سړی پسی لمونځ کول څنګه دی او ددغه سړی دپاره څه حکم دی؟

جواب: دغه سړی کذاب یامفتری یا لیونی دی. چی دروغ روایتونه بیانوی اوپرخدای ﷻ اورسول ﷺ باندی بهتان لګوی اوددی وعید مصداق ګرزی: من کذب علیَّ متعمدًا فلیتبوأ مقعده من النار. (۳) یعنی کم سړی چی پرما باندی دروغ وایی هغه دی خپله ټیکانه په دوږخ کی جوړه کړی. دغه سړی مبتدع اوفاسق دی. امام جوړول یی درست نه دی اوپه هغه پسی لمونځ مه کوی. (۴) فقط

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب الحیض مطلب فی احکام المعذور ص ۲۸۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۳۰۵. ظفیر

(۲). ایضًا باب الامامة ص ۵۴۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸. ظفیر

(۳) مشکوٰة، کتاب العلم ص ۳۲.

(۴). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحبه بدعة (درمختار) اما الفاسق الخ ففی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

دکم امام څخه چې بعضی مقتدیان ناراضه وي، دهغه امامت څنګه دی؟ سوال: (۲۵۷) امام دلمانځه فرائض اوواجبات وغیره په ښه شان اداکوی. دجماعت مقتدیان په دوه قسمه دي. بعضی دهغه په امامت باندی رضامند دی اوبعضی ناخوښه دی دکمی طبقی اعتبار به کیږی. اودابوداود دحدیث ولایقبل الله صلٰوة من تقدم قومًا فهم لهم کارهون څه مطلب دی؟

جواب: دفقهی په کتابونوکی دی چې که چیری په امام کی څه نقصان نه وی نودمقتدیانو دناراضګی هیڅ اثر په لمانځه کی نشته. دامام لمونځ بغیر کراهته درست دی اوګناه پر مقتدیانو باندی ده. اوکه چیری په امام کی نقص وی اودهغه په وجه مقتدیان ناراضه وی نوپر امام باندی مؤاخذه سته اوهغه ته امام کیدل مکروه دی اومراد دحدیث من تقدم قومًا الخ صرف هغه امام دی په چاکی چې خلل اونقص وی، کنی مقتدیان ګنهګاره دی چې بی وجهی ناراضه دی. ([1]) فقط.

دریږدیدونکی امامت: **سوال**: (۲۵۸) دچاپه لاسو اوپښوکی چې دریږدیدلو مرض وی په هغه پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: دچاپه لاس اوپښو کی چې دریږدیدلو مرض وی په هغه پسی لمونځ بغیر دکراهته ([2]) درست دی. فقط

چاته چې دسلس البول شک راځی، دهغه امامت: **سوال**: (۲۵۹) دسلس البول مرض خو نشته، لیکن دذکر په کښېکښېلو سره دمتیازو څاڅکی رااوزی، اوبعضی وخت داسی خیال کیږی چې دمتیازو څاڅکی دخپل ځای څخه خروج وکی خوپه کتلو سره نه ښکاره کیږی. داسی سړی امامت کولی سی اوکه نه؟

جواب: په کم حالت کی چې خروج دقطری نه وی نوامام کیدی سی، اودوهم اوشك اعتبار نسته. فقط

کم امام چې په خپل دعوت کی دشرابو انتظام وکی دهغه امامت: **سوال**: (۲۶۰) دیوحافظ دلور واده وسو، په هغه جلسه کی ډمان هم اوغیر مسلم هم راوبلل سول، دهغوی دپاره شراب راوغوښتل سوه اوورباندی وچیښل سوه. په داسی حالت کی نکاح وسوه اوکه نه؟ اودداسی حافظ اقتداء صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: نکاح وسوه لیکن دغه خلګ دګناهونو دارتکاب په وجه فاسقان اوعاصیان سول

([1]). لوام قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه اولانهم احق بالامامة منه کره له ذالك تحریما لحدیث ابی داود لایقبل الله صلاة من تقدم قوم وهم له کارهون وان هو احق لا والکراهة علیهم (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۲، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

([2]). دامامت دپاره دا (خبره) په عیب کی داخله نه ده. ظفیر

توبه دی وکاړی، اوپه داسی حافظ دقرآن پسی اقتداء کول مکروه دی، ترڅو پوری چی هغه توبه ونه کاړی هغه امام مه جوړوی. ([1]) فقط

دبی نکاح ښځی ساتلو ترغیب او دهغه امامت: **سوال**: (۲۲۱) کم سړی چی بل ته په رغبت ورکولو سره بی نکاحه ښځه دهغه په کورکی اباده (ډیره) کړی، دهغه امامت درست دی که نه؟

جواب: داسی سړی دامام کیدو لائق نه دی. په هغه پسی لمونځ مکروه دی. ([2]) فقط

تقلید ته ناجائز او قادیانی ته دمسلمان ویونکی امامت: **سوال**: (۲۲۲) چی دیوسړی داعقیده وی دهغه امام جوړول څنګه دی: تقلید ناجائز اوبدعت دی. مرزایان اومرزا (قادیانی) مسلمانان دی. دمقلدو مذهب په قرآن کریم کی نسته. داسی سړی امام جوړول اودقرآن شریف ترجمه دهغه څخه زده کول څنګه دی؟

جواب: داسی سړی امام جوړول دچا عقائد چی په سوال کی درج دی، درست نه دی او دهغه څخه دقرآن شریف ترجمه هم ویل نه دی پکار. ([3]) فقط

ترسینی پوری داوږدو وریښتانو ساتونکی امامت: **سوال**: (۲۲۳) دکم سړی پرسر باندی چی دومره اوږده وریښته وی چی ترسینی پوری رسیږی اوهغه یی دښځه مکر اوفریب دپاره نه وی ساتلی، دهغه امامت درست دی اوکه نه؟

پرقبرونو باندی دغلاف اچونکی امامت: **سوال**: (۲۲۴) دانبیاوو، اولیاوو، غوثانو، قطبانو او نورو دینی بزرګانو پرمزارونو باندی جارو وهل، رڼا پرکول، غلاف پراچول، سپلنی وغیره پردود کول څنګه دی؟ اوپه داسی سړی پسی لمونځ کول پکاردی اوکه نه؟

جواب: (۱) درست دی.

(۲) پرقبرونو باندی رڼاکول، غلاف اچول وغیره ممنوع اومکروه دی. اوصفا ساتل یی ښه دی. په رد المحتار (شامی) کی دی: تکره الستور علٰی القبور ([1]) انتهٰی. فقط (دهغه امامت مکروه ([2]) دی. ظفیر)

([1]). قا ل الله تعالی: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان، الایة (القرآن) ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی الخ واما الفسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لا یهتم لامر دینه الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰). ظفیر

([2]). ایضاً. ط.س. ج۱ ص ۵۶۰. ظفیر

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الوصول الخ وان انکر بعض ماعلم من الدین ضرورة کفر بها الخ فلا یصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰). ظفیر　　(ددوهم خل ۱ او ۲ حاشیه په وروسته صفحه کی وګورئ)

<u>دفرض لمونځ کولو څخه وروسته بیا دفرضو امامت</u>: سوال: (۲۲۵) زید دماپښین دلمانځه په وخت کی جومات ته داخل سو، داودس کولو څخه وروسته یی دسنتو څخه مخکی یو سړی پرفرض لمانځه ولیدی نودسنتو نیت یې وکی اوپه فرضو کی شریك سو. چی سنت یی ختم کړل نودنورو کسانو انتظار یی وکی خوهیڅوك رانغی نوجلا یی فرض او آخری سنت وکړل. دلمانځه ختمیدلو څخه وروسته دوه لمونځ ګذار نور راغلل اوپه جمعه یی سره دلمونځ اقامت کول وغوښتل زید هم دهغوی سره شریك سو. اواقامت زید وکی او دماپښین دفرضو نیت یی وکی اولمونځ یی وکی. زید وایی چی جلا کړی لمونځ نفل ګڼل اختیاری دی اودفرضو آخری دوه رکعاته تش کول کیږی اودنفلو په آخری دوو رکعاتوکی هم قرآئت سره دفاتحی واجب دی. په دی وجه که دنفلو نیت وسی نونفل ناقص پاته کیږی اودخپلو مخکنیو نفلو متعلق هم داوایی چی هغه ناقص پاته سوه خو بل چاته دجمعی ثواب اوخپل ځان ته دجمعی ثواب کم چی دنفلو ماتولو څخه ډیر زیات دی صرف په مخکی صورة کی حاصل سوی دی. اوکه چیری بالفرض په آخری جماعت کی دفرضو ثواب ورنه کول سی نودنفلو ثواب خوبه ضروروی. چونکی دا اختلافی مسئله ده، ددی دپاره صرف دفرضو نیت کول پکاردی اوجلا کړی فرض نفل ګڼل پکار دی.

(۲۲۶) ۱. مخکنی سنت کامل سوه اوکه ناقص، ولی چی امام قرآئت سره دفاتحی صرف په مخکنیو دوو رکعاتو کی ویلی دی.

(۲۲۷) ۲. دجلا فرض کولو څخه وروسته په جمعی سره فرض کول درست دی اوکه نه؟ که چیری فرض ونه سی نودنفلو ثواب به ورکول کیږی اوکه نه؟

(۲۲۸) ۳. بیا بیا دفرضو په نیت سره په لمونځ کولو کی اختلاف سته اوکه نه؟

(۲۲۹) ۴. دنفلو په ټولو رکعاتونو کی قرآئت سره دفاتحی واجب دی که څنګه، که چیری واجب وی نوبیا دنفلو والا مقتدی لمونځ به ناقص پاته وی اوکه نه؟

جواب: مسئله داده چی چا فرض لمونځ کړی وی هغه بیا دفرض لمونځ کونکو امام کیدی نه سی. نوکله چی زید خپل فرض لمونځ جلا وکی نودهغه فرض اداسول اوس هغه (لمونځ) نفل کولی نسی بلکی دوباره که چیری هم دغه لمونځ کوی نوهغه به نفل وی. اوپه نفل کونکی پسی دفرض کونکو لمونځ نه صحیح کیږی. اوهغه چی کم مخکی په

---

(۱). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ص ۸۳۹ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۲۳۸.

(۲). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**). ظفیر

(۱) فرض کونکی پسی دسنتو نیت تړلی وو اولمونځ یی کړی وو هغه نفل سو. (۲) خو سنت مؤکد کم چی دماپښین ځخه مخکی دی هغه اداء نه سوه، ولی چی دغه سنت جلا کول سنت دی. (۳)، (۱) هغه نفل سوه دماپښین سنت نه سوه. (۴)

(۲) چی فرض یوازی وکړی نوبیا دفرض کوونکو امام نسی جوړیدی. البته که چیری دفرضو جماعت وی نودنفلو په نیت سره دامام اقتداء کولی سی. (۳)

(۳) بیا بیا فرض نه کیږی چی کم فرض یی مخکی وکړل هغه فرض سول، که وروسته یی بیا کوی نوهغه به نفل وی. (۴)

(۴) نفل چی کله یوازی کوی په ټولو رکعاتونو کی قرآئت فرض دی. اوکه چیری څوك په فرض کونکی پسی دنفلو په نیت سره شریك سی نوهغه نفل صحیح دی. ناقص به نه وی. فقط (۵)

دغلطی عقیدی والا او لیونی امامت: **سوال**: (۲۷۰) یوسړی حاجی حمایت علی قوم په شیخ زاده دا اعتقاد لری چی دمرګ ځخه وروسته دانسان روح په بل قالب کی راځی اوهغه دهغه هم شکل وی. چاته وایی چی دازما غور نیکه دی اوچاته وایی چی دازما نیکه دی. غرض داچی هغه همیشه داقسم خیالات ظاهروی چی په دی وجه ټول خلګ دهغه ځخه نفرت کوی اوپه هغه پسی لمونځ نه کوی. اوهغه دلمانځه ورکولو ډیر شوقی دی. بغیر دچا دویلو ځخه دلمونځ ورکولو دپاره دریږی.

جواب: ددی خیالاتو اوتوهماتو ځخه معلومیږی چی ددغه ذکرسوی سړی عقل پر ځای نه دی. اوهغه لیونی دی. یامعتوه (اثری) دی. اوپه لیونی یامعتوه پسی لمونځ نه صحیح کیږی. لهٰذا په دی احتمال باندی په هغه پسی لمونځ بالکل فاسد دی. (۶) اوکه چیری

---

(۱). ولامفترض بتنفل وبمفترض فرضا اٰخر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج ۱ ط.س. ج۱ ص ۵۷۹). ظفیر

(۲). وصح اقتداء الخ متنفل بمفترض (ایضًا ص ۵۵۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۰). ظفیر (باقی)

(۳) و (۴) وضم الیها سادسة الخ لتصیر الرکعتان له نفلا الخ والرکعتان لا تنوبان عن السنة الراتبة بعد الفرض فی الاصح لان المواظبة علیها انما کانت بتحریمة مبتدأة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب سجود السهو ص ۷۰۱ ج ۱ ، ط.س. ج۲ ص ۸۷). ظفیر

(۳). ولامفترض بمتنفل (درمختار ط.س. ج۱ ص ۵۷۹) واذا اتمها یدخل مع القوم والذی یصلی معهم نافلة (هدایه ص ۱۳۴ ج ۱). ظفیر

(۴). واذا اتمها یدخل مع القوم والذی یصلی معهم نافلة لان الفرض لا یتکرر فی وقت واحد (هدایه باب ادراك الفریضة ص ۱۳۵ ج۱). ظفیر

(۵). والقراءة واجبة فی جمیع رکعات النفل (هدایه باب النوافل فصل فی القرآءة ص ۱۳۱ ج۱). ظفیر

(۶). ولا یصح الاقتداء بالمجنون المطبق ولا بالسکران (عالمگیری مصری الباب الخامس فی الامامة ج ۱ ص =

هغه ليونى اومختل العقل اومعتوه نه وى بلكى سره ددى چى هوش اوحواس يى سم دى اوداسى عقيده لرى نوداعقيده داهل سنت والجماعت څخه خلاف ده بلكى داسلام څخه خلاف ده. په دى وجه هم په هغه پسى لمونځ كول نه دى پكار. اولمونځ به نه صحيح كيږى يابه مكروه تحريمى وى ولى چى په بدعتى پسى لمونځ مكروه تحريمى دى. اود چا (۱) په اسلام كى چى شبه وى او دهغه عقائد داسلام څخه خلاف وى په هغه پسى لمونځ گرسره صحيح كيږى نه. (۲) بهرحال په هره وجه په هغه پسى لمونځ كول نه دى پكار. اوهغه امام جوړول حرام دى. هغه ته دى وويل سى چى هيڅكله امام مه جوړيږه اوهغه دى ددى كار څخه بالكل بندسى چى دخلگو لمونځ خراب نه كړى. يادى دخپلو باطلو عقائدو اودليونتوب دخيالاتوڅخه توبه وكاږى. په حديث شريف كى دى چى دهغه سړى لمونځ نه قبليږى څوك چى دامامت دپاره مخكى سى اوخلگ دهغه دامامت څخه كراهت كوى اوهغه امام جوړول نه دى پكار. په درمختار كى دى: ولو أم قومًا وهم له كارهون ان كان الكراهة لفساد فيه او لانهم احق بالامامة منه كره له ذلك تحريمًا لحديث ابى داود: ولا يقبل الله صلٰوة من تقدم قومًا وهم له كارهون. (۳) فقط

په جومات كى دزنا كونكى امامت: **سوال**: (۲۷۱) يوامام چى په جومات كى دننه زنا وكړه. دوو كسانو په خپلو ستر گو وليدى. اوامام مذكورهميشه داسى حركتونه كوى. په داسى امام پسى دلمانځه كولو څه حكم دى؟

جواب: داسى سړى كم چى په داقسم فواحشو كى مبتلا دى فاسق اوعاصى دى، دهغه امامت مكروه تحريمى دى. لازم دى چى هغه دى معزوله سى. (۴) اوبل صالح اوعالم امام دى مقرر سى. كه پوره عالم نه وى نوكم از كم دومره دى وى چى دلمانځه دمسئلو څخه خبر وى. اوقرآن شريف صحيح وايى. فقط

دمؤذن امامت: **سوال**: (۲۷۲) دمؤذن امامت جائزدى اوكه نه؟

= ۷۹ ، ط. ماجديه ج ۱ ص ۸۵). ظفير

(۱). ويكره امامة عبد الخ ومبتدع اى صاحب بدعة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

(۲). وان انكر بعض باعلم من الدين ضرورة الخ فلا يصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۴ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۱). ظفير

(۳). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹. ظفير

(۴). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) قوله فاسق من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر والزانى بل مشى فى شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريما (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ ، ۵۶۰). ظفير

جواب: حنفیان خو دمؤذن امام کیدل غوره لیکی. په درمختار کی دی: الافضل کون الامام هو المؤذن (۱) بل ځای په باب الامامة کی دی. وقول عمر ﷺ: لولا الخلافة لاذنت، أي مع الامامة، إذ الجمع أفضل. (۲) فقط

دنوکری باوجود چی خپل حواله سوی کارنه اداء کوی دهغه امامت: **سوال**: (۲۷۳) کم سړی چی په یوه محکمه کی کار کوونکی وی اومنصبی کار نه اداء کوی اومیاشت په میاشت تنخواه اخلی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: دداسی سړی امامت دفسق په وجه مکروه دی. (۳) فقط

د ګروی ځخه دفائدی اخستونکی امامت: **سوال**: (۲۷۴) یوسړی مزکه ګرو وساتله. راهن ته ځه نفع وغیره نه مجراء کوی اوداکار جائز ګڼی. په داسی سړی پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

چی دکم امام خبره خلګ نه منی دهغه اقتداء: **سوال**: (۲۷۵) امام دمحلی خلګو ته د شریعت خبره وښووله، یوځو کسانو منظوره نه کړه اودایی وویل چی موږ خپل رواج نه پریږدو ته زموږ امام نه یی، اوبیاپه همدی امام پسی لمونځ کوی. ددغه خلګو لمونځ په دی امام پسی صحیح دی اوکه نه؟

جواب: (۱) شامی داتحقیق کړی دی چی دګرو سوی مزکی ځخه نفع اخستل په سودکی داخل دی. اوپه: كُلُّ قَرض جَرَّ نفعًا فهو ربوًا، کی داخل دی نوپه دی بنا باندی چی کم سړی ددی حرام کار مرتکب وی هغه به عاصی اوفاسق وی اوپه فاسق پسی لمونځ مکروه دی. (۴)

(۲) لمونځ په دغه امام پسی صحیح دی. باقی دشریعت احکام نه منل اوپه هغه باندی عمل نه کول ګناه ده، ددی ځخه دی توبه وکاږی. فقط

دتَتْ ژبی امامت: **سوال**: (۲۷۶) یو تَتْ ژبی (تَهْ تَهْ تَهْ ویونکی) سړی لمونځ ورکوی په هغه پسی یوځو کسان مقتدیان وه، دیورکعات ځخه وروسته یوعالم دلمانځه کولو په غرض راغی، هغه په جمعه کی شریك سی اوکه نه؟ که چیری شریك سو نو دټولو خلګو لمونځ

---

(۱). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۳۷۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۱. ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۲. ظفیر

(۳). ویکره امامه عبد الخ وفاسق (درمختار) ولعل المراد به من یرتکب الکبائر (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ ، ۵۶۰). ظفیر

(۴). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹) ظفیر، په داشان ګروی اینښوول چی دچاسره ګروی ده یعنی راهن، هغه هیځ نه اخلی صرف دضمانت په طور یی هغه دځان سره ساتلی وی نوپه دی کی هیځ بدیت نسته او دهغه امامت جائزدی. ظفیر

خوبه نه باطليږی، اودعالم لمونځ به په تت ژبی پسی درست وی اوكه نه؟
جواب: هغه عالم كم چی وروسته راغی كه چيری يوازی لمونځ وكړی نودهغه لمونځ به هم صحيح سی اوكمو اميانو چی دمخكی ځخه لمونځ كوی دهغوی لمونځ به هم صحيح سی. اوكه چيری هغه عالم په ذكر سوی امی پسی اقتداء وكړی نوبيابه دهيچا لمونځ هم صحيح نه وی. نه ددغه عالم اونه دهغه اميانو كمو چی دمخكی ځخه لمونځ كوی. په دا شان ددرمختار عبارت: او اذا اقتدٰی امی وقارئ بامی تفسد صلٰوة الكل [1] ﷺ دی ته شامل دی: وصحت لوصلی كل من الامی والقاری وحده فی الصحيح [2] ﷺ درمختار.

كم قاتل چی صرف توبه وكاړی دهغه امامت څنګه دی: **سوال**: (۲۷۷) دقاتل ځخه قصاص نه دی اخستل سوی. په مقتول باندی خون معاف كولی نه سی صرف توبه يی وكښله او وايسته اوس دتوبی ځخه وروسته به په وجه دذمه واری دحق العبد فاسق ګرزول كيږی اوكه نه؟ اولمونځ به په هغه پسی مكروه وی اوكه نه؟
جواب: په درمختار كی دی: لا يصح توبة القاتل حتٰی يسلم نفسه للقود، وهبانيه. په شامی كی دی: ای لاتكفيه التوبة قال فی تبيين المحارم واعلم ان توبة القاتل لاتكون بالاستغفار والندامة فقد بل يتوقف علی ارضاع اولياء المقتول [3] ﷺ پردی ځای باندی شامی هم وګوری. دومره خبره معلومه سوه چی صرف په توبی سره به دقتل ګناه نه معاف كيږی او (قاتل به) فاسق پاته وی اولمونځ به ورپسی مكروه وی. [4] فقط

د ګوډ سړی امامت درست دی اوكه نه؟ سوال: (۲۷۸) ديوسړی په پښه كی ګوډوالی دی او دجومات امام دی. ليكن قرآن كريم ښه وايی داسی امام پسی لمونځ درست دی اوكه نه؟
جواب: په شامی كی دی: وكذا اعرج يقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغيره اولی تاتارخانيه [5] ددی روايت ځخه معلومه سوه چی په ګوډ پسی په لمونځ كولوكی څه حرج نسته. فقط

كم امام چی دشرابی دكور دعوت خوری، دهغه امامت: **سوال**: (۲۷۹) كم سړی چی دروژی په مياشت كی ياپه بله مياشت كی هميشه ښكاره شراب چښی، دهغه دكور خوراك چښاك اونكاح اوجنازه امام ته كول څنګه دی. اوكم امام چی يی كوی يايی په بل چا كوی اودخوراك چښاك ځخه يی پرهيز نه كوی دهغه دپاره څه حكم دی اودا خلګ چی په

---

[1]. الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۵۴ ج ۱ ط.س. ج۱ ص ۵۹۲. ظفير
[2]. ايضًا ص ۵۵۴ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۲. ظفير
[3]. ردالمحتار كتاب الجنايات فصل فيما يوجب القود ومالايوجبه ص ۴۸۴ ج۵ ، ط.س. ج۱ ص ۵۴۸. ظفير
[4]. ويكره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط. س. ج ۱ ص ۵۵۹). ظفير
[5]. ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲. ظفير

کم مجلس کی دعوت او نکاح او جنازه کی راوغوښتل سی یا پخپله حاضر سی هغه مجلس ته دتللو څه حکم دی؟

جواب: شراب چښونکی اودروژی په میاشت کی بغیر دعذره روژه نه نیونکی فاسق او عاصی دی، دهغه سره مسلمانانو ته سلام کلام پرېښوول او خوراك چښاك نه کول لازم دی. (۱) دجنازی لمونځ بیشکه دهغه کول پکاردی. لیکن په ژوند کی دهغه سره میل او تعلق ساتل نه دی پکار. اوکم امام چی بغیر دڅه ضرورت اومجبوری څخه دداسی خلگو سره میل او تعلق ساتی اوبغیر دبدگڼلو اوانکار څخه دهغه سره خوراك اوچښاك کوی هغه هم گنهگار دی. لائق دامام جوړولو نه دی. (۲) فقط

کم امام چی دمرتدی ښځی دعوت خوری دهغه حکم: **سوال**: (۲۸۰) یوه ښځه مرتده سوه خوهغه په حالت داسلام کی فاجره وه اودمرتدوالی په حالت کی هم فاجره ده. هغه په یو میلمستیا کی دخپل مذهب په خلگو باندی ډوډی وخوړله او ددوو مسلمانانو دپاره یی هم یوه سرلی وغیره ورکړه. که چیری یوڅوك ملا یی وخوری نودهغه اقتداء به جائز وی، او که نه؟

جواب: امام ته داسی ډوډی خوړل نه وو پکار، هغه ته پکاردی چی ددی کار څخه توبه وکاږی. (۳) اودتوبی څخه وروسته دهغه اقتداء درسته ده. فقط

دنکاح ترلو حق او داخترونو امامت: **سوال**: (۲۸۱) دمظفرنگر ښار قاضی محمد ضیاء الدین وو اوهغه دلمانځه، روژی پابینده وو، دښار دقاضی کیدلو په حیثیت دهغه څه حقوق مقرر وه اودوه کاره ورته حواله وه. یونکاح ترل اودوهم دآخترونو امامت. چی دهغه څخه نسلاً بعد نسلٍ ترشپږ، اووه پشته پوری مستفید سوی دی، ولی چی دشپږو، اوو پشتو راهیسی فیصلی کول دهغوی په مشرانو کی راروان وو. هغه وفات سوی وو. او اوس دری کسان دعویدار دی. یودقاضی ضیاء الدین زوی څوك چی دصوم اوصلوٰة پابینده اودلمانځه دارکانو اومسائلو څخه خبر دی اونکاح خوانی اوخطبه خوانی ترسره کولی سی. یوبل صاحب دی چی دهغه په آباء اواجدادو کی څوك قاضی نه دی تیرسوی

(۱). وفی فصول العلامی ولا یسلم علی الشیخ الممازح والکذاب واللاغی ولا علی من یسب الناس اوینظر وجوه الاجنبات ولا علی الفاسق المعین الخ (ردالمحتار مطلب المواضع التی یکره فیها السلام ص ۵۷۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۲۱۷). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۳). سئل الفقیه ابوجعفر عمن اکتسب ماله من امراء السلطان وجمع المال من اخذ الغرامات المحرمات وغیر ذلك هل یحل لمن عرف ذالك من طعامه قال احب الی ان لا یاکل منه الخ (ردالمحتار باب زکوٰة الغنم مطلب فی التصدق من المال الحرام ص ۳۵ ج۲ ، ط.س. ج۲ ص ۲۹۲). ظفیر

اوپخپله سود اخلی، دریم صاحب دذکر سوی صاحب مشر ورور دی. دصوم اوصلوٰة پایبنده دی، په عربی پوه دی، خوغیرِ مقلد دی اوتهول اوسیدونکی دمظفر نگر حنفیان دی. په دی دری وارو صاحبانو کی دچا مقرر کیدل مناسب دی؟

جواب: په اسلامی شریعت کی په دوارو امورو کی (کم چی قاضی ضیاء الدین مرحوم ته حواله وه، یعنی امامت داخترونو اونکاح ترل) وراثت پکښی نسته بلکی کم سړی چی ددی کارونو اهل وی اوپه هغه کی دامامت اوقضاء اوصاف پیداسی هغه دی امام او قاضی جوړسی، دامامت اوصاف دادی چی امام دی دلمانځه دمسئلو څخه خبروی صالح اودینداردی وی. قرآن کریم دی صحیح وایی، فاسق اوبدعتی دی نه وی، دهغه دبدو اعمالو اودعقائدو دفساد په وجه دی دعامو مسلمانانو دهغه څخه نفرت نه وی ولی چی داخبره هم دامامت دکراهت سبب وی. ([1]) اوچونکی دښار عام خلگ حنفیان دامام ابو حنیفه رحمه الله مقلدین دی، ددی دپاره غیرمقلد اوبدعتی دی دهغوی امام جوړنه سی ځکه چی اولاً په وجه دعدم تقلید یابدعاتو هغه دامامت لائق نه دی. ثانیًا دعامو مسلمانانو په دهغه څخه نفرت وی. نوکه چیری په ذکر سوو دری وارو صاحبانو کی څوك امام او قاضی جوړول مناسب دی نودقاضی صاحب مرحوم زوی کم چی دلمانځه اوروژی پایبند اودلمانځه دمسائلو څخه خبردی اونکاح خوانی ترسره کولی سی دامام اوقاضی جوړولو دپاره زیات لائق دی، ولی چی دوهم ۲ نمبر ([2]) شخص په وجه دسود خوری اودریم ۳ نمبر په وجه دغیر مقلد والی دحنفیانو اهل سنتو امام جوړولو لائق نه دی. ([3]) فقط

<u>که چیری صرف یوسړی په یوامام باندی الزام ولـګوی نو ددغه امام امامت څنـګه دی؟</u> سوال:

(۲۸۲) یوسړی قرآن کریم ډیر ښکلی وایی اوشریف سړی دی. غرض داچی دټول ښار خلگ دغه سړی دامامت قابل گڼی. صرف یوسړی پرهغه دا الزام لګوی چی دی سفلی عمل (جادو اومنتر) کوی. دغه امام بالکل ددی څخه انکارکوی. اوس داوفرمایاست چی کم سړی په داسی نیك امام باندی چی دټول ښار خلگ یی ښه گڼی، الزام باندی لګوی

([1]). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض الخ ولو ام قوما وهم له كارهون ان الكراهة لفساد فيه اولانهم احق بالامامة منه كره له ذالك تحريما لحديث ابی داود لايقبل الله صلاة من تقدم قوم وهم له كارهون. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷ - ۵۵۹). ظفير

([2]). وكذا تكره خلف امرد الخ وشارب الخمر واكل الربوا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفير

([3]). ويكره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة الخ وزاد بن ملك ومخالف كشافعی الخ (ايضًا ج۱ ص ۵۲۵ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

دهغه څه سزا ده؟

جواب: کله چې ددی الزام اوتهمت ثبوت نه وی کم يې چې پر امام باندی لګولی دی نو دهغه امامت دکراهت څخه بغير صحيح دی. ددروغو الزام لګونکی فاسق دی او عاصی دی، توبه دی وکاږی. (١) فقط

دنابالغ امامت: (۲۸۳) په نابالغ پسی لمونځ کيږی اوکه نه ؟

جواب: داحنافو صحيح مذهب دادی چې دنابالغه اقتداء دبالغو دپاره په فرضو اونفلو کی په يوه کی هم صحيح نه ده، نو تراويح هم په نابالغه پسی نه کيږی همدا داحنافو صحيح مذهب دی اوبلوغ دپنځلسو ۱۵ کالو په عمرکی دی، لهذا ترڅو پوری چې هلك بالغ سوی نه وی هغه امام مه جوړوئ هسی په نفلوکی دهغه قرآن پاك اوريئ، يعنی هغه هلك دی دنفلو په نيت تړلو سره ودريږی او اوريدونکی دی همداغسی کښينی او دهغه قرآن پاك دی اوری کله چې پوره دپنځلسو کالو سی نوبيا يې دتراويحو امام جوړ کړئ (قال فی الدر المختار: ولا يصح اقتداء رجل بامرأة وخنثی وصبی مطلقا ولو فی جنازة ونفل الخ ، اوپه شامی کی دی: والمختار انه لا يجوز فی الصلٰوة کلها الخ). فقط (٢)

داستاذ دبی عزتی کوونکی امامت: **سوال**: (۲۸۴) ګل بابا دمولوی ثناء الله څخه يوکتاب دحديثو اويو دفقهی ووايه. ددی څخه وروسته ګل بابا په يوه خبره باندی خپل ذکر سوی استاذ ته ښکنځل وکړل اوبد الفاظ يې ورته وويل. څه وخت وروسته مولوی صاحب وفات سو اوس په ګل بابا پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: اوس کله چې دګل بابا ذکرسوی استاذ وفات سوی دی نوګل بابا ته دی وويل سی چې دخپل استاذ مذکور دپاره دی دعا وکړی اوکمه بی ادبی اوګستاخی چې دهغه څخه سويده دهغه څخه دی توبه وکاږی اواستغفار چې وغواړی الله ﷻ به دهغه ګناه معاف کړی. اواستاذ به يې هم خوشحاله سی. اودتوبی څخه وروسته دګل بابا امامت بی کراهته درست دی. په درمختار کی دی چې که چيری په فاسق اومبتدع پسی لمونځ وکړی نوفضيلت اوثواب دجمعی به ورکول سی. اوپه شامی کی دی چې ددی څخه معلومه سوه چې په دوی پسی لمونځ کول ديوازی لمونځ کولو څخه ښه دی. ددرمختار عبارت دادی. صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة الخ قال فی الشامی افاد ان الصلوٰة خلفهما اولٰی من الانفراد الخ (٣) . فقط

---

(١). يايها الذين اٰمنوا اجتنبوا کثيرا من الظن ان بعض الظن اثم ولاتجسسوا (الحجرات ٢٠٠). ظفير

(٢). ردالمحتار باب الامامة ج١ ص ٥٣٩ - ٥٤٠ ، ط.س. ج١ ص ٥٧٦ – ٥٧٧ . ظفير

(٣). ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٥ ج ١ ، ط.س. ج١ ص ٥٢٢ . ظفير

دبجلکو ښځه کښته دپرتوګ اغوستونکی امامت: سوال: (۲۸۵) دامام پرتوګ دبجلکو ښځه کښته دی سجدی ته دتللو وخت کی په دواړو لاسونو سره پرتوګ پورته خیژوی اوبیا سجدی ته ځی. داکار په لمانځه کی په هر رکعات کی برابر جاری وی. هغه ته وویل سوه نوجواب یی داورکی چی قسم په خدای، اوس به یی دوچنده کوم. په داسی حالت کی به زموږ دمقتدیانو لمونځ صحیح سی اوکه نه؟ اوموږ په هغه پسی لمونځ کوو اوکه نه؟ اوکه یوازی لمونځ کوو؟

جواب: امام مذکورته داسی کول نه دی پکارولی چی اول خو دبجلکو ښځه کښته پرتوګ ساتل دلمانځه ښځه دباندی هم حرام اومنعه دی، داکار دامام دفسق سبب دی اوپه فاسق پسی لمونځ مکروه دی، اوفاسق چی توبه کښلی نه وی نوامام جوړول یی مکروه (۱) دی. اوثانیًا په لمانځه کی بیا بیا داسی حرکت کول هم نه دی پکار ځکه چی په دی کی هم کراهت دی. اوپه بعضو صورتونوکی دلمانځه دفساد بیره ده. (۲) پرهر حال امام مذکور دفعل مذکور ښځه بندول پکاردی اوکه چیری هغه منع نه سی نومعزوله کول یی پکاردی اوکه چیری یې پردی باندی قدرت نه وی، نوپه همده پسی لمونځ کول ښه دی اودجمعی ثواب حاصلیږی (۳). فقط

څوک چی صرف په اوبو سره استنجاء وهی، دهغه امامت، سوال: (۲۸۶) زید وایی چی عمر دتشو اوډکو متیازو ښځه وروسته په لوټو سره ځان نه پاکوی صرف پر اوبو باندی بسوالی کوی هغه دامامتی کولو لائق نه دی ولی چی استنجاء بالحجر سنت مؤکد ده. عمر وایی چی استنجاء بالحجر ضروری نه ده. آیاپه عمر پسی په لمونځ کولوکی څه حرج سته اوکه نه؟ په دی باندی یومفتی عمر ته فاسق لیکلی وو. په هغه باندی مفتی صاحب دا لاندینی جواب تحریر وفرمایی:

جواب: اقول بالله التوفیق. په شامی کی دی: ثم اعلم ان الجمع بین الماء والحجر افضل ویلیه فی الفضل الاقتصار علی الماء ویلیه الاقتصار علی الحجر وتحصیل السنة بالکل وان تفاوت الفضل کما افاده فی الامداد وغیره (۴).

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**). ظفیر

(۲). ویکره کفه ای رفعه ولو لتراب کمشمر کم اوذیل وعبثه به اوبثوبه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ما یفسد الصلوة ومایکره فیها ص **۵۹۸** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۴۰). ظفیر

(۳). وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة (در مختار) افاد ان الصلاة خلفهما اولی من الانفراد لکن لا ینال کما ینال خلف تقی وورع (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص **۵۲۵** ، ط.س. ج۱ ص **۵۶۲**). ظفیر

(۴). رد المحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۱۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۳۸ . ظفیر

دعلامه (شامی) ددی تفصیل څخه معلومه سوه چی صرف پراوبو باندی په اکتفاء کولو سره داستنجاء سنت حاصلیږی. نوحکم دفسق پرهغه باندی غیرِموجّه دی، اوترك کونکی دافضل نه فاسق کیږی. فالجواب فیه سقم وغلط. فقط

که چیری ښځهووایی چی فلانی امام زما سره زنا کړیده، دهغه امامت: سوال: (۲۸۷) یوه ښځه په خپله ژبه داوایی چی فلانی سړی زما سره زنا کړیده. دغه سړی دجومات امام هم دی. اوس په دغه سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اودغه سړی دزنا څخه انکار کوی، اوښځه فحش کاره ده. په دی صورة کی شرعًا څه حکم دی. دښځی نکاح دخپل خاوند څخه ماته سوه اوکه قائمه ده؟

جواب: دښځی په وینا سره پرسړی باندی دزنا ثبوت نه سی کیدی. ([1]) او دهغه په امامت کی څه کراهت نه راځی. اوددکر سوی ښځی نکاح دهغې دخاوند سره قائمه ده. فقط

دتور خضاب استعمالونکی امامت: سوال: (۲۸۸) کم سړی چی تور خضاب لګوی اووریښته توروی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟　　**جواب:** مکروه ([2]) دی. فقط

په تویټکو (جادو اوطلسم) وغیره باندی داعتقاد لرونکی امامت: سوال: (۲۸۹) زید تویټکی (جادو اوطلسم) کوی. دصدقی په طور دمریض دکټ سرته بزه تړی اوکه مریض کم عمره وی نووربادی یی سپروی. بیا هغه بزه دفن کوی. دزید دپاره څه حکم دی؟ آیا په هغه باندی توبه اوتجدید دنکاح لازم دی اوکه نه؟ هغه امام جوړول پکاردی اوکه نه؟ اوکه چیری مسلمانانو ته وویل سی چی داسی سړی ته زورنه ورکول پکار دی، کم ازکم دی دامامتی څخه معزوله کړی، اویو څو جاهلان ووایی چی موږ خوپه زید باندی ایمان راوړی دی، نوداڅنګه دی؟

جواب: داسی سړی امام جوړول نه دی پکار، بلکی عالم اوصالح اوپرهیزګاره سړی امام جوړول پکاردی. اوکم جاهلان چی دداسی سړی دامامت طرفداردی هغوی ګنهګاره دی. ولی چی دهغه په مبتدع او فاسق کیدلو کی څه تردد نسته او د فاسق او بدعتی امامت

([1]).ترڅو پوری چی دڅلورو عینی ګواهانو شاهدی پیش نه کړی. دَاعتبار قابله نه ده. والشهادة علی مراتب منها الشهادة فی الزناء یعتبر فیها اربعة من الرجال لقوله تعالی : واللاتی یاتین الفاحشة من نساءکم فاستشهدوا علیهن اربعة منکم (هدایه کتاب الشهادات ص ۱۳۸ ج ۳). ظفیر

([2]). ویستحب للرجل خضاب شعره ولحیته ولوفی غیر حرب فی الاصح والاصح انه ﷺ لم یفعله ویکره بالسواد وقیل لا(الدرالمختار) قوله یکره بالسواد ای بغیر الحرب الخ وان الیدین نفسه للنساء فمکروه وعلیه عامة المشائخ وبعضهم جوزه بلا کراهة روی عن ابی یوسف انه قال کما یعجبنی ان تتزین لی یعجبها ان تزین لها (ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۷۲ ج ۵ ، ط.س. ج۱ ص ۴۲۲) که چیری توری نکروزی مکروه ومنل سی نودَهغه امامت به مکروه وی کنی نه به وی، ځکه چی دامسئله مختلف فیه ده. ظفیر

مکروه دی اومعزوله کول دداسی امام لازم دی. کذا فی الشامی (۱). فقط

کم سړی چی دجومات سامان په خپل کورکی استعمال کړی، دهغه امامت: سوال: (۲۹۰)

کم سړی چی جومات برباد کړی اودهغه خاوره اوکانی یی دخپلی استوګنی په کورکی ولګول اولمونځ او روژه نه اداء کوی. اودکافرانو دکور ډوډۍ خوری اوسود ورکوی او خطبه غلطه وایی، ددغه سړی پر منبر باندی دریدل اووعظ اوخطبه ویل اوامامت کول درست دی اوکه نه؟

جواب: دجومات سامان په طور دخیانت اوغصب کورته وړل اوپه خپل کارکی راوستل اودرمضان شریف روژی نه نیول اولمونځ نه کول اوکافرو ته سود ورکول داټول کارونه حرام دی. ددی کارونو کونکی فاسق دی اوامامت دهغه مکروه دی (۲). اودکافرانو دکور ډوډۍ خوړل صحیح دی. پردی باندی اعتراض کول بی ځایه دی. اوغلطه خطبه ویونکی خطیب مقررول نه دی پکار. فقط

دخلکو دخفه کیدلو دبیری څخه په خلاف شریعت خبره باندی دخاموشی اختیارونکی امامت: سوال: (۲۹۱) چی عالم دشریعت څخه خلاف خبره واوری اونه یی منع کوی اوپه دی وجه خاموش پاته سی چی خلګ به زما څخه خفه سی. دداسی عالم امامت څنګه دی؟

جواب: دامر بالمعروف په باره کی یی په درمختار کی داتفصیل کړیدی چی که چیری غالب ګمان وی چی داسړی به زما خبره اودشریعت حکم ومنی نوهغه ته امر بالمعروف اونهی عن المنکر کول واجب دی. اوکه داګمان یی وی چی داسړی به شرعی حکم ونه منی نوواجب نه دی. (۳) نوهم دغه رکم حکم په صورة مسئوله کی دی چی که چیری ویل نافع وی نوودی وایی، کنی خاموش دی پاته سی. اودا ګمان دعالم دطرفه ولی وسی چی په دی وجه خاموشه وی چی خلګ راڅخه خفه نه سی. (۴)

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة (درمختار) بل مشی فی شرح المنیه ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۳ ج۱ ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

(۳). رای فی ثوب غیره نجسا مانعا ان غلب علی ظنه انه لو اخبره ازالها وجب والا فالامر بالمعروف علی هٰذا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۵۰). ظفیر

(۴). فالامر بالمعروف علی هٰذا کذا فی الخانیة وفی فصول العلامی وان علم انه لا یتعظ ولا ینزجر بالقول ولا بالفعل ولو باعلام سلطان اوزوج اووالد له قدرة علی المنع لایلزمه ولایاثم بترکه، لکن الامر والنهی افضل وان غلب علی ظنه انه یضر به اویقتله لانه یکون شهیداً. (ردالمحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۲۴ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۵۰). ظفیر

ځوک چې دمسئلو ځخه انکاروکې دهغه امامت: **سوال**: (۲۹۲) کم عالم چې دشریعت خلاف خبرې اورې اوچپ پاته سي ګويا دخلګو دلحاظ په وجه. کمه مسئله چې حقه وي هغه پټه کړې اودشريعت بې ادبې وکړې اودا ووايې چې دشريعت فتوٰی په ما ځه کولې سي. په داسې سړي پسې لمونځ کول جائز دي اوکه نه ؟

جواب: په داسې سړي پسې لمونځ کول نه دي پکار ځوك چې دشريعت مسئلې نه مني او دبې ادبۍ الفاظ ووايي. ([1]) فقط

(په شرح فقه اکبر ص ۲۱۵کې دي: من اهان الشريعة اوالمسائل التي لابدمنها کفر. ظفير)

دچاچې داعقيده وي چې حضور ﷺ ته دتمامو شيانو علم وو، دهغه امامت: **سوال**: (۲۹۳) که چيرې يو سړی ددې خبرې معتقدوي چې نبي کريم ﷺ ته علمي کلي ياجزئي وو، نوپه هغه پسې لمونځ جائزدي اوکه نه؟

جواب: دبعضو مغيباتو علم رسول الله ﷺ ته دحق تعالی په اعلام (يعني ښوولو) سره مسلّم اومتفق عليه دی. البته داعقيده ساتل چې دټولو مغيباتو علم هغه ﷺ ته وو، يا هغه ﷺ عالم الغيب بالاستقلال وو، نودا داهل سنت والجماعت دعقيدې ځخه خلاف ده، په داسې سړي پسې دلمونځ کولو ځخه ځان ساتل لازم دی. ([2]) فقط

عالمګيرې ته د ګرنته ويونکي امامت: **سوال**: (۲۹۴) ځه فرمايي ددين عالمان دهغه سړي په باره کې ځوك چې په يوه مسئله کې دبحث په دوران کې په بيباکۍ سره اوبغير دبيرې ځخه دفتاوٰی عالمګيرې په باره کې کم چې دفقهې دعلم معتبر اومستند کتاب دی هغه ته ګرنته وايي. کم چې دسيکانو دپيشوا ګرونانك کتاب دی، اوبيابه پردې خبره باندې ټينګ دي، په داسې سړي پسې لمونځ درست دي اوکه نه؟

جواب: داسې سړی فاسق دی اوسخت ګنهګاردی ترځو پورې چې توبه ونه کاږي په هغه پسې لمونځ مه کوی ([3]) اوامام يې مه جوړوی. دفقهې دکتابونو سپکاوی ته عالمانو کفر ويلی دی. ([4]) والعياذ بالله تعالی. فقط

چې دچاپه خوله کې غاښونه نه وي، دهغه امامت: **سوال**: (۲۹۵) کم سړي چې دلوی اودس

([1]). ويکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

([2]). ويکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة وهي اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ - ۵۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفير

([3]). ويکره امامة عبدالخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

([4]). وفي التتمة من اهان الشريعة والمسائل التي لابدمنها کفر. شرح فقه اکبر ص ۲۱۵. ظفير

ماتی څخه دنه صفا کیدلو په وجه یادهلکوالی دیو علت په وجه دتمباکو څه حصه په مقعدکی ایږدی دهغه امامت څنګه دی؟ یایی په خوله کی یوغاښ هم نه وی چی دهغه په وجه سره دحروفو اداء کیدل سم نه کیږی؟ یادچا دپښو ګوتی چی دمزکی څخه هاخواته (لوړ طرفته) وی؟ اوښه سړی پیدا کیدی سی نوامامت یی څنګه دی؟

جواب: په ټولو صورتونو کی لمونځ صحیح کیږی لیکن ښه دادی چی امام داسی سړی جوړسی دچا څخه چی دمقتدیانو نفرت نه وی اوهغه امام صالح اودلمانځه دمسئلو څخه خبر وی اوقرآن شریف ښه وایی ([1]). فقط

دعاق امامت: **سوال**: (۲۹۶) دعاق امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی: صلوا خلف کل بر وفاجر، الحدیث. نو عاق هم چونکی مسلمان دی، کافرنه دی. په دی وجه په هغه پسی لمونځ صحیح دی، خومکروه دی ولی چی دمور اوپلار عاق او داستاذ عاق (نافرمانه) فاسق دی اودفاسق امامت مکروه ([2]) دی. کذا فی الشامی. فقط

دزکوٰة مال خوروونکی هاشمی (**سیّد**) **امامت**: **سوال**: (۲۹۷) یوصاحب دنصاب هاشمی سړی زکوٰة اخلی اوغزل خوانی کوی اونغاره ږغوی اوخپل سکه ورور رسواکوی. دداسی سړی دامامت څه حکم دی؟

جواب: غنی ته دزکوٰة مال اخستل اوخوړل ناجائزدی اوسرود اوسرنا اونغاره وغیره شیان حرام اومعصیت دی، دغه رکم په یومسلمان باندی تهمت لګول اوذلیله کول اوعیب جوئی یی کول حرام دی. مرتکب دداسی خبرو فاسق دی، دامام جوړولو لائق نه دی. په شامی وغیره دفقهی کتابونوکی دی چی دفاسق امام جوړول حرام دی اوپه هغه پسی لمونځ کول مکروه تحریمی دی ولی چی فاسق واجب الاهانة دی اوپه امام جوړولو کی دهغه تعظیم ([3]) دی. فقط

دمریض امامت: **سوال**: (۸۹۸) دجومات پر مقرر امام زید باندی یخه تبه لګیدلی ده خو

([1]). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۷**). ظفیر

([2]). اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامردینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لماذکرنا (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۶۰**). ظفیر

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) قوله فاسق من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۶۰ - ۵۵۹**). ظفیر

حواس یې درست دی اودهغه هم عصر عالمان په جومات کې موجوددی نوپه لمانځه ورکولو کې ترجیح چاته ده اوپه مریض امام پسې دعالمانو مقتدیانوپه لمانځه کې خوبه څه کراهت نه راځي؟

جواب: په لمانځه کې به څه کراهت نه (۱) وي.

داجنبې ښځې سره دخلوت اختیارونکي امامت: **سوال**: (۶۹۹) دجومات یوامام یوسړي ته څلور سوه روپۍ ورکړي اوپه هغه باندې یې ښځه طلاقه کړه. اوس هغه طلاقه سوې ښځه اوامام په یوه کوټه کې یوازې اوسیږي. آیا اوس دهغوی نکاح وروسته دعدې دتیریدلو څخه کیدی سي، بله داچې دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟ مذکوره ښځه هغه دمینځې په شان شمار کړي اوکه نه؟

جواب: دعدې څخه وروسته نکاح کیدی سي اودنکاح څخه مخکې هغه ښځه اجنبیه (یعنې پردې) ده. خلوت ورسره (۲) حرام دی. اومینځه ګڼل دهغه غلط دی اوجهالت دی. اوامام مذکور دامامت لائق نه دی، هغه دې دامامت څخه معزول سي په هغه پسې لمونځ مکروه (۳) دی.

پنځه ویشت ۲۵ کلن امام چې ږیره یې پوره نه وي راغلې: **سوال**: (۷۰۰) په یوجومات کې امام پنځه ویشت شپږ ویشت کلن مقرردی خوږیره یې پوره ښکاره سوې نه ده. په داسې سړي پسې لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اودامامت په شرائطو کې بلوغ شرط دی اوکه ږیره؟

جواب: په هغه پسې لمونځ درست دی، ولې چې امامت دپاره بالغ کیدل شرط دی. ږیره راوتل شرط نه (۴) دی. هکذا فی کتب الفقه. فقط

---

(۱). ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقا (درمختار) ای وان کان غیره من الحاضرین من هو اعلم واقرأ منه (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۲). وفی الاشباه الخلوة بالاجنبیة حرام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی النظر والمس ص ۳۲۳ج ۵ ، ط.س. ج ۲ ص ۳۶۸). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

(۴).وَكَذَا تُكْرَهُ خَلْفَ أَمْرَدَ (درمختار) الظَّاهِرُ أَنَّهَا تَنْزِيهِيَّةٌ أَيْضًا . وَالظَّاهِرُ أَيْضًا كَمَا قَالَ الرَّحْمَتِيُّ أَنَّ الْمُرَادَ بِهِ الصَّبِيحُ الْوَجْهِ لِأَنَّهُ مَحَلُّ الْفِتْنَةِ ، وَهَلْ يُقَالُ هُنَا أَيْضًا : إذَا كَانَ أَعْلَمَ الْقَوْمِ تَنْتَفِي الْكَرَاهَةُ : فَإِنْ كَانَتْ عِلَّةُ الْكَرَاهَةِ خَشْيَةَ الشَّهْوَةِ وَهُوَ الْأَظْهَرُ فَلَا ، وَإِنْ كَانَتْ غَلَبَةَ الْجَهْلِ أَوْ نُفْرَةَ النَّاسِ مِنْ الصَّلَاةِ خَلْفَهُ فَنَعَمْ سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الشَّيْخُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عِيسَى الْمُرْشِدِيُّ عَنْ شَخْصٍ بَلَغَ مِنْ السِّنِّ عِشْرِينَ سَنَةً وَتَجَاوَزَ حَدَّ الْإِنْبَاتِ وَلَمْ يَنْبُتْ عِذَارُهُ ، فَهَلْ يَخْرُجُ بِذَلِكَ عَنْ حَدِّ الْأَمْرَدِيَّةِ ، فَهَلْ حُكْمُهُ فِي الْإِمَامَةِ كَالرِّجَالِ الْكَامِلِينَ أَمْ لَا أَجَابَ : سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الشَّيْخُ أَحْمَدُ الْمَعْرُوفُ بِابْنِ الشَّلَبِيِّ =

په الف اوعین کی دتمیز نه ساتونکی امامت: **سوال**: (۷۰۱) کم سړی چی دقرآن شریف په الفاظو کی دبی علمی په وجه تمیز نسی کولی اوپه الف اوعین اوت اوط وغیره کی فرق نسی کولی اوزور، زیر، پیښ هم باقاعده نسی ویلی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: په هغه پسی لمونځ دصحیح ویونکو درست نه دی. ([1]) فقط

پرچا باندی چی حج فرض وی اونه یی کوی، دهغه امامت: **سوال**: (۷۰۲) زید دیوی محلی په جومات کی امام دی. په زید باندی په وجه دنصاب حج فرض دی اوهغه یی نه اداء کوی اوشرعی مانع هم موجود نسته. بله داچی زید خپله ږیره په خضاب سره توروی او دممانعت دحدیث په قسم قسم تاویلونو سره تاویل کوی. دریمه داچی زید دصلحی په جشن کی ښه په شوق سره حصه واخیسته اونورو خلګو ته یی په هغه کی دشریکیدلو ترغیب اوشوق هم ورکوی، ګواکی داسلامی خلافت پر خرابیدو اوختمیدو باندی دهغه دطرف څخه دزړه داخلاصه دخوشحالی اظهار وسو. دداسی سړی دپاره څه حکم دی او دهغه اقتداء کول جائزدی اوکه نه؟ که چیری په هغه پسی لمونځ نه صحیح کیږی نو دمخکنیو لمونځونو څه کول پکاردی؟

جواب: په درمختار اوشامی کی دی چی زیاته صحیح خبره دحج په باره کی داده چی فی الفور دی اداء سی. یعنی په کم کال چی حج فرض سی په هم هغه کال دی اداسی اود اول کال څخه تاخیر ګناه صغیره ده که چیری ترڅوکالو پوری تاخیر وکړی نوفاسق به سی. ([2]) همدغه شان تور خضاب بغیر دڅه داعی مشروع (یعنی شرعی ضرورت) څخه مکروه یی لیکلی دی. ([3]) نو دادواړی خبری دذکرسوی سړی دامامت دمکروه والی سبب دی. یعنی که څه هم لمونځ په هغه پسی اداء کیږی. لقوله ﷺ صلوا خلف کل برو فاجر الحدیث نقله فی شرح المنیه. لیکن مکروه کیږی. اوکم لمونځونه چی په هغه پسی سوی دی هغه هم

= مِنْ مُتَأَخِّرِي عُلَمَاءِ الْحَنَفِيَّةِ عَنْ هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ فَأَجَابَ بِالْجَوَازِ مِنْ غَيْرِ كَرَاهَةٍ. (رد المحتار بالإمامة ج ۱ ص ۵۲۵ ط. س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

([1]). ولاغیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح کما فی البحر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی الالثغ ص ۵۴۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۱). ظفیر

([2]). وهوفرض علی الفور وهوالاصح فلایباح له تاخیر بعد الامکان الی العام الثانی فاذا آخره وادی بعدذالك وقع اداء كذا فی البحرالرائق (عالمګیری مصری کتاب المناسك ص ۲۰۲ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۲۱۲). ظفیر

([3]). ویستحب للرجل خضاب شعره ولحیته الخ ویکره بالسواد وقیل لا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۷۵ ج۵ ، ط.س. ج۲ ص ۴۲۲). ظفیر

وسول، دهغه دراګرزولو ضرورت نسته. ددی دپاره یو بل صالح اوعالم سړی امام جوړول پکاردی ولی چی دهغه په امام جوړولو کی دهغه تعظیم دی اوتعظیم دفاسق حرام دی. (۱) اودصلحی دجشن شرکت ددی څخه بیل ساتل پکاردی ولی چی په دی کی په شرکت کولو کی دحاکمانو دحکم په وجه قوم ته فی الجمله مجبوری ده. محض په دی وجه به دفسق حکم نه سی پرکول کیدی. فقط

<u>څوک چی سنی نه وی اودشیعه څخه متاثر دی، دهغه امامت</u>: سوال: (۷۰۳) یوسړی مخکی رافضی وو هغه دشیعه اوسنی قوم په منځ کی امام جوړسو اوچونکی اکثره خلګ سنیان وه هغه په لمانځه کی خپل طرز اوطریقه دسنیانو غوندی ولګول، کم خلګ چی دهغه شیعه توب ته ګوری هغوی لمونځ نه کوی اودزړه دتسلی دپاره داسوال پیش کوی چی که چیری دا امام سړی دشیعه ګانو پرهغه فرقه باندی کمه چی پرام المومنین حضرت عائشی صدیقی رضی الله عنها باندی تهمت لګوی اوحضرت علی رضی الله عنه خدای ګڼی اوپه وحی راوړلو کی دحضرت جبرایل علیه السلام سهوه کیدل منی، اوپر صحابه کرامو باندی لعن طعن کوی بالخصوص پرشیخینو باندی چی دغه فرقی والا دفقهی روایاتو په موجب کافران دی. دا امام که پرهغوی باندی لعنت ووایی اوخپله هغه عقیده بیان کړی کمه چی داهل سنت والجماعت ده چی داسی خلګ کافران دی. هلته به موږ لمونځ کووکنی زموږ تسلی نه کیږی ترڅو پوری چی صفایی ونه کړی. دغه سړی ددی څخه انکار کوی چی داخبره به هیڅکله ونه کړم. ددی انکار څخه نور شك پیدا کیږی دهغه دشیعه کیدلو. آیا په هغه پسی لمونځ کول دداسی سړی په موجودګی کی په چا پسی چی تریوی مودی پوری بغیر دعذر څخه خلګ لمونځ کوی، درست به وی اوکه نه؟

جواب: داظاهره خبره ده چی که چیری دغه سړی سنی وای نوزیاتی کوونکو رافضیانو ته دکمو اعتقاد چی دکفر حدته بالیقین رسیدلی دی اوپه اتفاق داهل سنتو هغوی کافران دی) هغوی ته په کافر ویلو اوملعون ویلو کی به ده ولی تامل (انکار) کولی. نوکله چی دغه سړی په دی باره کی داهل سنت والجماعت موافقت نه کوی نوضرور دی شیعه او رافضی دی، (۲) یا درافضیانو طرفدار دی پرهر حال دامام جوړولو لائق نه دی (۳). او مخکنی امام په چا کی چی څه وجه دامامت دکراهت او عدم جواز نسته، هغه امام ساتل

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعا الخ بل مشی فی شرح المنیة کراهة تقدیمه کراهة تحریم. (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۹۹ – ۵۶۰) ظفیر.

(۲). وبهٰذا ظهر ان الرافضی ان کان ممن یعتقد الالوهیة فی علی رضی الله عنه اوان جبرئیل غلط فی الوحی اوکان ینکر =

پکاردی. فقط

دښځی په حلفیه بیان باندی نکاح ترل جرم نه دی: سوال: (۷۰۴) یوی ښځی په قسم سره بیان وکی چی زما خاوند ماته طلاق راکړی دی. په دی بیان قاضی دهغې نکاح دبل سړی سره وتړل. وروسته معلومه سوه چی طلاق نه وو سوی. خلګو په نکاح تړونکی پسی لمونځ کول پریښوول. په داقسم نکاح تړلو سره دنکاح خوان امامت جائزدی اوکه نه؟ او دهغه ښځه طلاقیږی اوکه نه؟

جواب: دښځی پربیان باندی کله چی هغې په قسم سره دمخکنی خاوندطلاق ورکول بیان کړل، دبل سړی سره یی نکاح تړل درست [۱] دی. اوپه دی وجه باندی نکاح خوان دامامت څخه دلیری کولو قابل نه دی اوپه هغه پسی لمونځ صحیح دی. لیکن کله چی ثابته سوه چی هغه ښځه طلاقه سوی نه ده، نوپه دغه وخت کی ددوهمی نکاح باطل کیدل په عام طور سره بیانول ضروری دی او ددوهم خاوند څخه یی جلا کول لازم دی. بیاکه چیری طلاق وسی نودعدی تیریدلو څخه وروسته دوباره نکاح کیدل پکاردی. اوددی څخه دا خبره هم واضحه سوه، چی دقاضی صاحب بی بی دهغه دنکاح څخه خارجه نه سوه. فقط

داوړدی ږیری والا اوږیره لنډونکی کی امامت دپاره څوک ښه دی: سوال: (۷۰۵) زموږ په کلی کی دوه امامان دی. ف. م. ف چی عمریی پنځوس کاله، سپینه جامه اغوستونکی، اوږده ږیره والا، حافظ دقرآن اودجمعی پابیند دی. او (م) چی دیرش څلویښت کاله عمر یی دی، ږیره لنډوی ناظره خوان، دجومات څخه هروخت غائب، اویووار یی بی اودسه جمعه ورکړی وه، نوپه دی حالت کی امامت دچاښه دی اوکم یو امام کیدل پکاردی؟

جواب: په دی صورة کی (ف) دامامت زیات حقداردی اولمونځ په (م) پسی هم اداء کیږی. خوکله چی هغه ددین په باره کی محتاط نه دی اوږیره یی دشرعی موافق نه ده، اوکله یی بی اودسه لمونځ ورکړی دی نوپه هغه پسی لمونځ مکروه [۲] دی. فقط

= صحبة الصدیق اویقذف السیدة الصدیقه فهو کافر لمخالفة القواطع المعلومة من الدین بالضرورة (رد المحتار کتاب النکاح فصل فی المحرمات ص ۳۹۸ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۴۶). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) بل مشی فی شرح المنیة کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۹ – ۵۶۰) ظفیر.

(۱). وحل نکاح من قالت طلقنی زوجی وانقضت عدتی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۷۱ ج ۵ ، ط.س. ج۶ ص ۴۲۰). لا تجوز خلف الرافضی والجهمی الخ (عالمگیری مصری باب الامامة ص ۷۸ ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۸۴) ظفیر.

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(یوه قبضه (موټی) ږیره ساتل سنت دی، دهغه څخه کوچنی کول دږیری خریلو په حکم کی دی اودا حرام دی: لَا يُكْرَهُ دَهْنُ شَارِبٍ وَ لَا كُحْلٍ إِذَا لَمْ يَقْصِدْ الزِّينَةَ أَوْ تَطْوِيلَ اللِّحْيَةِ إِذَا كَانَتْ بِقَدْرِ الْمَسْنُونِ وَهُوَ الْقَبْضَةُ وَأَمَّا الْأَخْذُ مِنْهَا وَهِيَ دُونَ ذَلِكَ كَمَا يَفْعَلُهُ بَعْضُ الْمَغَارِبَةِ ، وَمُخَنَّثَةُ الرِّجَالِ فَلَمْ يُبِحْهُ أَحَدٌ ، وَأَخْذُ كُلِّهَا فِعْلُ يَهُودِ الْهِنْدِ وَمَجُوسِ الْأَعَاجِمِ. (رد المحتار کتاب الصوم. باب مایفسد الصلوة مطلب فی الاخذ من اللحیة ص ۱۵۵ ج۲. ظفیر)

دوهم په وجه امامت پریږدی اوکه نه؟ **سوال**: (۷۰۶) زه دډیری مودی راهیسی امامت کوم. اوس ماته څه وهم شروع سوی دی چی اودس به می مات سوی وی. په دی وجه می په زړه کی دا تقاضاده چی ته امامت مه کوه. اوکله چی خلګ یوازی یوازی پرلمانځه وینم نو دامامت څخه بغیر می زړه نه صبریږی. شرعًا څه حکم دی؟

جواب: په وهم باندی هیڅ عمل پکارنه دی اوداسی وسوسه دفع کول پکاردی اولاَحولَ ولا قوة الا بالله اکثر وایه اوترڅو پوری چی دی داودس ماتیدلو یقین نه وی ترهغه وخته پوری دغه طرفته څه التفات کول نه دی پکار. (۱) اوامامت کول پکاردی. په حدیث شریف کی داراغلی دی چی ترڅو پوری دحدث آواز یا بدبویی معلومه نه سی ترهغه وخته پوری اودس نه ماتیږی. (۲) فقط

د ګروی څخه دنفع اخستونکی امامت مکروه تحریمی دی: **سوال**: (۷۰۷) چی یو سړی مزکه په ګرو واخلی اونفع یی خوری نودهغه امامت مکروه تحریمی دی، اوکه تنزیهی؟

جواب: مکروه تحریمی دی. کذافی الشامی (۳). فقط

دماخستن دفرض لمونځ کولو څخه وروسته بیا ددغه فرض لمونځ امامت کولی سی اوکه نه؟

سوال: (۷۰۸) زید په یوجومات کی په امام پسی دماخستن فرض وکړل. دهغه څخه وروسته یی په بل جومات کی دماخستن دفرضو امامتی وکړه نودوباره یی چی کم فرض لمونځ ورکی هغه فرض دی اوکه نفل؟

جواب: دزید فرض لمونځ مخکی سوی وو. دوباره یی چی کم وکی هغه نفل سوه په هغه پسی دخلګو فرض اداء نه سوه (۴). فقط

---

(۱). الیقین لایزول بالشك (الاشباه والنظائر القاعدة الثالثه ص ۷۵. ظفیر

(۲). عن ابی هریرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اذاوجد احدکم فی بطنه شیئًا فاشکل علیه اخرج منه شیئ ام لا ؟ فلا یخرجن المسجدحتٰی یسمع صوتا اویجد ریحا رواه مسلم (مشکوٰة باب مایوجب الوضوء ص ۴۰). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) بل مشی فی شرح المنیة کراهة تقدیمه (ای الفاسق) کراهة تحریم. رد المحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۴). لا مفترض بمتنفل وبمفترض فرض اٰخر لان اتحاد الصلاتین شرط عندنا وصح ان معاذًا کان یصلی مع =

دمنکراتو څخه دځان نه ساتونکی اودمور اوپلار نافرمانی کونکی امامت: **سوال**: (۷۰۹) بکر دپهلوانانو گشتی (غیږی) ته ځی چیری چی ډول وغیره منکرات وی اوپه میلو کی چیری چی هرقسم قبیح کارونه کیږی دی یی تماشی کوی. دجمعی ترك کونکی دی. اوبکر خپل زوم عمر راپارولی اوغولولی دی اودخپل پلار زید عاق اونافرمانه کړی یی دی. تردی چی عمر را ولاړسو خپل پلار یی وواهی. حالانکی دنکاح څخه مخکی عمر دزید ډیر تابعدار وو اوبکر خپل زوم عمر دپلار څخه دمعافی غوښتلو څخه منع کی. او ددین علم حاصلولو څخه یی هم بندکی. آیا دبکر اوعمر امام جوړول درست دی اوکه نه؟ اوعمر دخپل پلار زید څخه عاق دی اوکه نه؟

جواب: عمر په دی صورة کی دپوښتنی کونکی دبیان موافق دخپل پلار عاق اونافرمانه اوشرعًا فاسق اوعاصی دی. نوامام جوړول دهغه حرام دی اوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی. دغه رکم بکر چی عمر دمور اوپلار پرنافرمانی باندی اماده کوی اودشرعی منکراتو مرتکب دی. فاسق دی. دهغه امام جوړول حرام دی اولمونځ په هغه پسی مکروه تحریمی دی. علامه شامیؒ په فاسق پسی دلمانځه مکروه تحریمی کیدلو اودفاسق امام جوړولو دحرمت په دلیل کی دالیکلی دی چی فاسق دحدیث په اعتبار سره واجب الاهانت دی او په امام جوړولوکی دهغه تعظیم دی. په دی وجه دهغه امام جوړول حرام سو. دشامی عبارت دادی، اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم بامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا (۱) الخ. فقط

دشپږو گزو پلن پرتوگ اغوستونکی امامت: **سوال**: (۷۱۰) که چیری پرتوگ شپږ گزه پلن وی اودبجلکو څخه لوړوی. امام هغه واغوندی اولمونځ پکښی ورکړی نوجائزدی اوکه نه؟

جواب: لمونځ صحیح دی فقط (ځکه چی دپلنو پایڅو پرتوگ اغوستل درست دی. ظفیر)

دچانسب چی په مخکی پشت کی خراب وی، دهغه امامت: **سوال**: (۷۱۱) زید خپلی ښځی ته طلاق مغلظ ورکی، یوکال وروسته بیا دهغه خاوند بغیر دشرعی نکاح څخه په خپل زوجیت کی وساتله اودهغې څخه یوه انجلۍ پیداسوه دهغې سره یومسلمان نکاح وکړه، دهغه څخه چی کم اولاد پیداسو نوهغه امامت کولی سی اوکه نه؟ په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیری دغه اولاد صالح وی اودامامت قابل وی مثلاً داچی عالم وی، دشریعت

= النبیؐ نفلا وبقومه فرض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۹). ظفیر

(۱). رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر

دمسئلو څخه خبروی نوپه هغه پسی لمونځ بلاکراهته درست دی بلکی ښه دی. ([1]) فقط

پرچا باندې چی ښځه تور ولګوی دهغه امامت: **سوال**: (۷۱۲) هنده یوه کونډه بازاری ښځه دخپل حرام حمل نسبت دجومات امام ته کوی اوامام انکار کوی چی داپرما باندی ناحقه الزام لګوی. یوڅوکسان امام معزوله کول غواړی. شرعًا ددی امام دامامت څه حکم دی؟

جواب: کله چی دزنا هیڅ شهادت موجودنه دی نوزنا اودزنا څخه حمل کیدل ثابت نه دی. ([2]) اومحض تهمت لګول دی. نودامام په امامت کی به په دی وجهی سره څه کراهت نه وی. فقط

دکسبیانو څخه دپیسو اخستونکی امام امامت: **سوال**: (۷۱۳) دجومات امام دهغه ښځو څخه آمدنی اخلی څوك چی په ناجائزه طریقه یعنی دکسبی بدکاری (زنا) په طور خپله ګذاره کوی اوکله چی یوه ښځه دکورنی اوکوچنی په ناجوړی کی وفات سی نودغه امام داوسپنی په سیخ باندی دشړشمو تیل پوری کړی اوپر هغه چاپیره یی ګرځوی چی دهغه څخه بلا جوړه نه سی. همدا اعتقاد دوفات سوی (ښځی) دوارثانو وی. دهغه څخه امام دأجرت په طور نقدی روپیی اخلی. زید مړسو اوپه نیت دثواب پسماندګانو دامام څخه ماسوا یوبل یتیم مسکین ته خیرات کپړی وغیره ورکړی. نوآیا امام ته دنه ورکولو ګناه وسوه اوکه ثواب؟ اوکه حق ددغه امام وو؟ داسی امام دامامت قابل دی اوکه نه؟

جواب: دحرامی ګټی څخه اخیستل هیچاته هم درست نه دی. ([3]) خاصکر دجومات امام ته په داسی شیانوکی دډیر احتیاط ضرورت دی. اوکمه ښځه چی داولاد په درد کی یاپه نفاس (څلویښتی) کی مړه سی هغه شهیده ده. دهغه څخه دبلا جوړیدلو عقیده ساتل غلط دی دداسی خیال څخه توبه کول پکاردی. اودایصال دثواب دپاره غریبانو یتیمانو اومسکینانو ته یوڅه ورکول دمړی دپاره دثواب ذریعه ده دامام څه خاص حق په هغه کی نسته که چیری هغه هم محتاج اوغریب وی، نوهغه ته دی هم ورکول سی لیکن داګنل

([1]). وولد الزنا هذا ان وجد غیرهم والا فلا کراهة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۶۲**). ویکره تقدیم الفاسق الخ وولد الزنا بناء علی ان الغالب فیه الجهل ایضا اذا لیس له من یحمل علی التخلق بالاخلاق الحمیدة من العلم وغیره حتی لوتحقق منه عدم الجهل لایکره تقدیمه کالعبد والاعرابی فانه لا ذنب له بزنی ابویه ولاتزر وازرة وزر اخرٰی (غنیة المستملی ص **۳۵۱**) اوسوال چی دَچاپه باره کی دی هغه خوپخپله ولد الزنا هم نه دی البته دَهغه مورده. ظفیر

([2]). الشهادة فی الزنا یعتبر فیها اربعة من الرجال لقوله تعالی (هدایه کتاب الشهادات ص ۱۳۸ ج ۳) ظفیر.

([3]). الحرمة تتعدد مع العلم بها (درمختار) اما لو رأی المکاس مثلا یاخذ من احد شیئا من المکس ثم یعطیه اٰخر ثم یاخذ من ذالك الاٰخر فهو حرام (رد المحتار کتاب البیوع باب البیع الفاسد ، مطلب الحرمة تتعدد ص ۱۸۰ ج ۴ . ظفیر

چې دهمده حق دی اودده څخه علاوه نورو محتاجو یتیمانو ته ورکول ګناه ده بالکل غلطه اومحض افتراء ده. داسی امام دامام جوړولو لائق نه دی. (۱) فقط

دامام رکوع اوسجده اوږدول څنګه دي؟ **سوال**: (۷۱۴) امام رکوع اوسجده اوږدوی سره ددې چې مقتدیان یې منع کوی لیکن امام نه منی شرعًادداسی امام متعلق څه حکم دی؟

قرآئت اوږدول: **سوال**: (۷۱۵) چې امام قرآئت کرار وایی اوسورة هم لوی وی چې مقتدیانو ته پکښې تکلیف وی نودا جائزدی اوکه نه؟

دامام غیر حاضري: **سوال**: (۷۱۶) دیوسړی دکار په وجه امام پنځه اووه واره په هفته کی غیر حاضر وو، دهغه باره کی څه حکم دی؟

دماخستن څخه وروسته دامام ګپه اوبنډار کول اودسهار په لمانځه کی نه حاضریدل: **سوال**: (۷۱۷) که امام ددوستانو آشنایانوسره کښېنستی چې دهغه په وجه دشپې په بیده کیدو کی تاخیر وسی اودسهار دلمانځه دپاره ولاړیدی نه سی اودامام نائب دجومات دطرفه څخه په تنخواه باندی وساتل سی، ددغه امام متعلق څه حکم دی؟

جواب: (۱) امام ته په لمانځه کی اختصار اوتخفیف کول پکاردی. زیات اوږدول دقرآئت اورکوع اوسجدی ښه نه دی. کما ورد فی الحدیث (۲).

(۲) زیات دی نه اوږدوی او دمسنون قرآئت څخه دی تجاوز نه کوی. (۳)

(۳) ښه داده چې دمقتدیانوپه رضامندی سره دی داسی کوی. دمقتدیانو رضامندی څخه بغیر داسی کول ښه نه دی.

(۴) داښه نه دی. حضور ﷺ به دانه خوښوله. (۴) فقط

څوک چې ځوانه کونډه انجلۍ دنکاح څخه بنده وی دهغه سړی امامت: **سوال**: (۷۱۸) یو سړی ځوانه کونډه انجلۍ په نکاح کول غواړی خودهغې پلاریې نه غواړی، په هغه پسی

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰) ظفیر.

(۲). ویکره تحریما تطویل الصلوة علی القوم زائدا علی قدر السنة فی قراءة واذکار رضی القوم اولا، لاطلاق الامر بالتخفیف (درمختار) لما فی الصحیحین اذا صلی احدکم بالناس فلیخفف فان فیهم الضعیف والسقیم والکبیر واذا صلی لنفسه فلیطول ماشاء الخ (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۵۶۴). ظفیر

(۳). ان التطویل هو الزیادة علی القرآئة المسنونة فانه صلی الله علیه وسلم نهی عنه وقراءته هی المسنونة فلا بد من کون مانهی عنه غیر ماکان دابه الا لضرورة الخ (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۵)

(۴). ویکره النوم قبلها والحدث بعدها لنهی النبی ﷺ عنهما الا حدیثا فی خیر لقوله ﷺ (لا سمر بعد الصلوة یعنی العشاء الاخیرة ﷺ) وانما کره الحدیث بعدها لانه ربما یؤدی اللغو اوالی تفویت الصبح اوقیام اللیل لمن له عادة به واذا کان لحاجة مهمة فلا باس ﷺ (رد المحتار کتاب الصلوة تحت قول وتاخیر عشاء الی ثلث اللیل ص ۳۴۱ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۶۸). ظفیر

لمونځ څنګه دی؟
جواب: لمونځ په هغه پسی صحیح دی خو باوجود دښه موقع په کفو کی دپیدا کولو دخپلی لور نکاح نه کول ډیر بد دی، داسی کول نه دی پکار.
(ځکه چی ارشاد ربانی دی: وَأَنْكِحُواْ ٱلْأَيَامَىٰ مِنكُمْ. په ایامیٰ کی کونډه هم داخله ده. ظفیر)
دخلافت څخه دمخالف امامت: **سوال**: (۷۱۹) کم سړی چی دخلافت څخه قطع تعلق وکړی او ددی په باره کی نه څه کوشش کوی نه په یوه جلسه کی شریکیږی، اوکه دهغه څخه دسبب پوښتنه وسی نوهغه ته غیرمهم اوخلاف مصلحت وایی اوخپل زیراثر کسانوته هم ددی تلقین کوی اوفرقه بندی قائمه کړی، آیا داسړی مسلمان دی. که چیری وی نودده امامت جائز اواولی کیدی سی؟
جواب: دغه سړی پرغلطی باندی دی. اسلام او داسلامی سلطنت اوخلافت سره همدردی دمسلمانانو اولین فرض دی، سره دمسلمان کیدلو دخلافت اسلامیه سره همدردی نه ساتل سخته خطاء ده. دتفصیل داموقع نه ده. اجمالی خبره داده چی خیال مذکور ددغه سړی غلط دی اوباطل دی. باقی تکفیر دهغه درست نه دی اوجګړه کول مناسب نه دی او څه تعرض ورسره مه کوی اوفتنه اوفسادمه زیاتوی. په صبر اوسکون سره خپل کارکوی. څوك چی شریك سی فبها اوڅوك چی شریك نه سی هغه دهغه پرذمه دی، دهغه سره دڅه تعرض کولو ضرورت نسته. فقط
په سودی کاروبار کی وظیفه اوکار کول اوپخپله دسود اخستونکی امامت: **سوال**: (۷۲۰) یو سړی په سرکاری بینك کی ملازم (کار کوونکی) دی اوسودی قرض لیکی اوپخپله هم سود اخلی. په هغه پسی لمونځ مکروه تحریمی دی اوکه نه؟ اودلمانځه اعاده واجبه ده اوکه نه؟
جواب: په حدیث شریف کی دسود په اخستونکی او ورکونکی اوشاهدانو وغیره باندی لعنت وارد سوی دی اوحضور ﷺ فرمایلی دی: هُمْ سَوَآءٌ، یعنی دوی ټول په ګناه کی برابردی. لهٰذا ذکرسوی سړی چی ترڅو پوری توبه ونه کاږی په وجه دفاسق کیدلو دامام جوړولو لائق نه دی اولمونځ ورپسی مکروه تحریمی دی کذافی الشامی (۱). لیکن په درمختار کی یی بل ځای نقل کړی دی: صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة افاد ان الصلوة خلفهما اولی من الانفراد. شامی (۲) البته داقاعده هم فقهاوو لیکلی ده:

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح النیه ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۲۰). ظفیر
(۲). رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفیر

کل صلوة ادی مع کراهة التحریم تجب اعادتها.
([1]) په دی کی بعضو داتفصیل هم فرمایلی دی چی په وخت کی دننه اعاده واجبه ده او دوخت څخه وروسته مستحب ده خو شامی دی ته مرجوح ویلی دی اوویلی یی دی چی راجح خبره داده چی په وخت کی دننه اودوخت څخه وروسته اعاده واجبه ([2]) ده. البته کم علماء چی داصل څخه اعادی ته مستحب فرمایی هغوی به ورته په دواړو حالو کی مستحب وایی. فقط

چی کم سړی دمطلقه ثلاثه ښځی نکاح بغیر حلالی تړی اوشرح وقایه را واخلی اووي غورزوی دهغه امامت: **سوال**: (۷۲۱) کم دجمعی امام چی دمطلقه ثلاثه ښځی نکاح دطلاق سره بغیر دتحلیل څخه وتړی اودا ووایی چی زماپه نزد دری طلاقه په منزله دیورجعی طلاق دی، بحث راسره وکړی، بیا دیو دیوبندی تعلیم یافته سره چی یی خبری وسوی نوشرح وقایه پیش سوه نوذکر سوی سړی شرح وقایه راپورته کړه اودجومات په صحن کی یی وغورځوله اودایی وویل چی دیوبندی ملا اوکم خلک چی په دی مسئله کی دده ملګری دی داټول منافقان دی. دداسی سړی دامامت شرعًا څه حکم دی؟

جواب: دمطلقه ثلاثه ښځی سره دتحلیل څخه بغیر دمخکنی خاوند سره نکاح تړونکی سړی فاسق دی اودفقهی کتاب غورزونکی اوحقانی عالمانو ته منافق ویونکی دسختی درجی فاسق دی، بلکی ددین دکتابونو دسپکاوی سره دکفر بیره ده. داسی سړی دامامت لائق نه دی ترڅو پوری چی هغه توبه ونه کاږی اودایمان تجدید ونه کړی نوهغه دی امام نسی جوړول کیږی. په شامی کی دی: وَأَمَّا الْفَاسِقُ فَقَدْ عَلَّلُوا كَرَاهَةَ تَقْدِيمِهِ بِأَنَّهُ لَا يُهْتَمُّ لِأَمْرِ دِينِهِ، وَبِأَنَّ فِي تَقْدِيمِهِ لِلْإِمَامَةِ تَعْظِيمَهُ، وَقَدْ وَجَبَ عَلَيْهِمْ إهَانَتُهُ شَرْعًا، وَلَا يَخْفَى أَنَّهُ إذَا كَانَ أَعْلَمَ مِنْ غَيْرِهِ لَا تَزُولُ الْعِلَّةُ، فَإِنَّهُ لَا يُؤْمَنُ أَنْ يُصَلِّيَ بِهِمْ بِغَيْرِ طَهَارَةٍ فَهُوَ كَالْمُبْتَدِعِ تُكْرَهُ إمَامَتُهُ بِكُلِّ حَالٍ ﷺ ص ۳۷۲ ج۱.

وفی شرح الفقه الاکبر عن التتمة من اهان الشریعة والمسائل التی لابد منها کفر الخ ص ۲۱۵. فقط

دخائن اوغاصب امامت: **سوال**: (۷۲۲) دزید داولاد په محله کی چی کم امام دی هغه چل کوونکی (دهوکه باز) دی یعنی د خلګو دروپو وهلو په خیال سره خپل ځان دحکومت په

([1]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة. مطلب واجبات الصلوة. ص ۴۲۵ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۴۵۷. ظفیر
([2]). قید فی البحر فی باب قضاء الفوائت وجوب الاعادة فی اداء الصلوة مع کراهة التحریم بما قبل خروج الوقت اما بعد فتستحب، وسیاتی الکلام فیه هناك ﷺ وترجیح القول الاول بالوجوب فی الوقت وبعده (رد المحتار باب صفة الصلاة تحت مطلب کل صلاة ادیت مع کراهت التحریم ص ۴۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۵۷). ظفیر

کورکی غریب لیکی، اوقسم باندی اخلی، که څه هم دهغه سره ښه ډیر مال وی. دغه رکم ددی امام سره ډیر مال جمع دی. دداسی خائن اوغاصب اقتداء درسته ده اوکه نه؟ کله چی مقتدیان دهغه څخه نفرت کوی. اودزید اولاد په دی خبره ضد کوی چی موږ به په همدی چلباز امام پسی داختر لمونځ کوو. فقط

جواب: کم سړی چی دخلګو حقونه اودیون سره دوس لرلو نه اداء کوی او (دخلګو حقونه) وهی هغه ظالم اوفاسق دی. په هغه پسی لمونځ مکروه دی. کذا فی الشامی ([1])

دحنفی انجلۍ سره دشیعه نکاح اودنکاح تړونکی امامت: **سوال**: (۷۲۳ دحنفی انجلۍ او شیعه هلك نکاح په خپلو کی کیدی سی اوکه نه؟ که چیری نسی کیدی چی کم سړی نکاح وروتړی اواصرار کوی چی کیدی سی، دهغه دپاره څه حکم دی؟ که چیری هغه دجومات امام وی نوهغه پسی به لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: رافضی چی تبراء کونکی وی (صحابه ؤ ﷺ ته بدرد وایی) دهغه سره دمسلمانی سنی حنفی ښځی نکاح درسته نه ده اوکه چیری نکاح سوی وی نو دیوبل څخه دی جلا سی. ([2]) او کم امام دمسجد چی داسی نکاح وکړی هغه دامام جوړولو لائق نه دی، که څه چی په ده پسی لمونځ صحیح کیږی ، مګر مکروه دی ، داسی امام که چیری توبه ونه کاږی نو دلیری کولو لائق دی . ([3]) فقط

دنابینا امامت: **سوال**: (۷۲۴) دنابینا دامامت څه حکم دی. که چیری مکروه وی نوولی؟ او کله چی دهغه څخه اعلم موجود وی اودهغه دامامت څخه نفرت کوی نوڅه حکم دی؟ په هغه پسی دلمونځ کولو څخه یوازی کول ښه دی اوکه نه؟

جواب: دهدایی صاحب دړوند دامامت دکراهت دوی وجهی لیکلی دی. یوه داچی هغه دنجاست څخه ځان نه سی ساتی، بله داچی خلګ دهغه دامامت څخه نفرت کوی. نو که چیری دادواړی وجهی نه وی نودړوند امامت بغیر دکراهت څخه درست دی. ([4]) اوپه

([1]). بل فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (رد المحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰) ظفیر.

([2]). وفی النهر تجوز مناکحة المعتزلة لانا لا نکفر الخ (درمختار) وبهٰذا ظهر ان الرافضی ان کان ممن یعتقد الالوهیة فی علیؓ اوان جبریلؑ غلط فی الوحی اوکان ینکر لصحبة الصدیق اویقذف السیدة الصدیقة ﷺ فهو کافر (رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۹۸ ج ۲ ، ط.س. ج ۳ ص ۴۵ - ۴۶). ظفیر

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

([4]). ویکره تقدیم العبد الخ والاعمٰی لانه لا یتوقی النجاسة الخ ولان فی تقدیم هٰولاء تنفیر الجماعة فیکره ، (هدایه باب الامامة ص ۱۱۰ ج۱) . ظفیر

شامی کی یی داعمٰی په امامت بلا کراهت باندی استدلال کړی دی چی حضور ﷺ عبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنه اوعتبان رضی الله عنه امامان جوړ کړی وه. لکن ورد فی الاعمٰی نص خاص هو استخلافه ﷺ لابن ام مکتوم وعتبان رضی الله عنهما علی المدینة وکانا اعمیین لانه لم یبق من الرجال من هو اصلا منهم. الخ، (۱) غرض داچی کله داعمٰی څخه اعلم (زیات پوه کسان) موجود دی اوخلګ داعمٰی دامامت څخه نفرت هم کوی، نوښه داده چی اعمٰی دی امام نه سی اوکه چیری سو، نولمونځ ورپسی کول پکاردی، دیوازی لمونځ کولو څخه په هغه پسی افضل دی څنګه چی په درمختار اوشامی کی دی: صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة الخ قوله نال فضل الجماعة افاد ان الصلوة خلفهما اولی من الانفراد الخ (۲). ص۳۷۷ شامی. فقط

داختر دلمانځه دپاره امامت: **سوال**: (۷۲۵)دیومسجد امام دکوچنی اختر دلمونځ ورکولو څخه وروسته دوباره ښځو ته داختر لمونځ ورکی شرعًا ددی څه حکم دی؟

جواب: کم امام چی یووار داختر لمونځ ورکی هغه بیا دوباره داختر لمونځ نسی ورکولی. دوباره چی هغه کم لمونځ ورکوی هغه نفل (۳) دی. اودنفلو جمعه مکروه ده. (۴) لهٰذا دغه لمونځ مکروه سو. اویوازی ښځوته جمع ورکول هم مکروه دی. کذافی الدر المختار (۵). فقط

دتصویر ایستونکی امامت وروسته دتوبی څخه: **سوال**: (۷۲۶) دیوه لیډر (پارټی مشر) دوجهی څخه یومجلس جوړسو په هغه کی امام صاحب هم دبلنی په وجه راغی، دټول مجلس سره دامام صاحب تصویر هم واخستل سو. اوامام صاحب سره ددی چی دمسئلی څخه خبروو، خپل تصویر یی وایستی، نوپه هغه پسی لمونځ صحیح دی اوکه نه؟ کله چی اوس هغه دخپلی غلطی اقرار کوی اوتوبه کاږی ؟

جواب: تصویر یخپله ایستل یاپه بل چا ایستل په شریعت کی حرام دی. دابیشکه دهغه څخه غلطی او ګناه وسوه. لیکن کله چی دغه امام صاحب اوس توبه کاږی ، نو لمونځ په هغه پسی بغیر کراهته صحیح دی (۶) . فقط

(۱). رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر
(۲). رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفیر
(۳). ولا مفترض بمتنفل وبمفترض فرضا آخر لان اتحاد الصلاتین شرط عندنا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۹). ظفیر
(۴). ولا التطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره لو علی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد (ایضًا باب الوتر والنوافل ص ۶۲۳ ج۱ ، ط.س. ج ۲ ص ۴۸). ظفیر
(۵). ویکره تحریما جماعة النساء ولوفی التراویح (ایضًاباب الامامة ص ۵۲۸ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۵). ظفیر=

چې زوې يې دزنا مرتکب وي نودهغه دپلار امامت څنګه دی؟ سوال: (۷۲۷ زيد دخپل پلار دخور سره زنا وکړه اوهغه يې حامله کړه. دهغه پلار امام دی اوزيد جومات ته اوبه هم راوړي. دزيد په پلار پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اودزيد په راوړو اوبو باندی اودس جائز دی اوکه نه؟

جواب: دزيد دبدکاری په وجهی سره دزيد دپلار په امامت کی هيڅ کراهت نسته. اود زيد په راوړو اوبو سره اودس جائزدی، ليکن داضروری دی چې داسی سړی ته تنبيه وسی اوتوبه ورباندی وايستل سی. فقط

دشراب چښونکی امامت: **سوال**: (۷۲۸) زيد شاهی خطيب دی خودلمانځه اوروژې پايبند نه دی. په رمضان المبارك کی په هوټلونو کی دچای چښلو اوپه عامو لارو کی دپان خوړلو اوبيړی څکولو عادی دی. ددی څخه علاوه دائم الخمر دی، خُمارکول يې روزمره مشغله ده اوزانی دی، سره ددی حرکاتو په جامع مسجد کی خطبه وايي. داسی سړی خطبه ويلی سی اوکه نه؟

جواب: په داسی سړی پسی لمونځ کول مکروه دی اودی دامام جوړولو لائق نه دی، معزولول يې پکاردی اوترڅو پوری چې دی دبدو کارونو څخه توبه ونه کاړی امام دی جوړ نه سی ([1]). فقط

داماميه شيعه امامت: **سوال**: (۷۲۹) فرقه اماميه چې رافضيان ورته ويل کيږی په هغوی پسی داهلِ سنت لمونځ کيدی سی اوکه نه؟ که چيری په غلطی سره يې په هغوی پسی داختر لمونځ کړی وی نوهغه راګرزولی سی اوکه نه؟

جواب: په رافضی پسی دسنی لمونځ نه صحيح کيږی ددغه لمونځ اعاده کول پکاردی ([2]) اوداختر دلمانځه اعاده په هغه صورة کی کيدی سی چې دهغه څخه وروسته داهل سنت جماعت کيږی، کنی يوازی داختر لمونځ نسی کيدی.

چې پرچا باندی دخائن والی شبه وی دهغه امامت: **سوال**: (۷۳۰) که چيری پريوه سړی باندی خلګو ته مثلاً دخائن کيدلو بدګمانی وی، نوپه هغه پسی لمونځ سم دی اوکه نه؟

جواب: لمونځ پسی صحيح ([3]) دی. فقط

([2]). قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب التوبه والاستغفار ص ۲۰۴) ظفير.

([1]). ويکره امامة عبدالخ وفاسق الخ وکذا تکره خلف امرد الخ وشارب الخمر (درمختار) بل مشى فى شرح المنية ان کراهة تقديمه اى الفاسق کراهة تحريم (ردالمحتار. باب الامامة ص **۵۲۳** جِ۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** ...**۵۶۲**).

([2]). ولاتجوز الصلاة خلف الرافضى والجهمى والمشبه ومن يقول بخلق القرآن (عالمګيری مصری باب الامامة ص ۷۸ ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۸۴). ظفير

([3]). اليقين لايزول بالشك (الاشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص **۷۵**). ظفير

څوک چې علماءِ دیوبند ته کافر وايي دهغه امامت: **سوال**: (۷۳۱) کم سړی چې حسام الحرمين راواخلی اوخلګ دعلماءِ احناف دیوبند ترخلاف ترکفره پوری اوپه عدم جواز دامامت دعالمانو باندی باعثه کوی دداسی سړی امامت درست دی اوکه نه؟

جواب: داسی سړی فاسق دی، لائق دامام کیدلو نه دی. په حدیث شریف کی دی: سباب المسلم فسوق الحدیث، اواهل حق عالمانوته بدویونکی اوتکفیرکونکی هم لائق دامامت نه دی اوپه هغه پسی لمونځ جائز نه دی. (۱) فقط

په سرکاري ابتدائي مکتب (پرائمری سکول) کی هریجنانو ته دتعلیم ورکونکی امامت: **سوال**: (۷۳۲) په سرکاری مکتب (سکول) کی پښتو، فارسی، أردو اوحساب دتجارت دکاروبار زده کولو دپاره زده کول جائزدی اوکه نه ؟ او دکم امام زوی چې هلته ویل کوی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په دی تعلیم اوتعلُّم کی هیڅ حرج نسته اودکم امام زوی چې ذکر سوی لوستنه کوی نوپه دی وجهی سره ددی امام په امامت کی هیڅ حرج نسته اوهیڅ فساد اوکراهت پکښی نسته. فقط

دهغه سړي امامت دچا ښځه چې آواره (فحاشه) وي: **سوال**: (۷۳۳) زید دجومات امام دی. یوه ورځ عمر ولیدل چې دزید کورته یواجنبی سړی ورغلی دی، عمر زید ته وویل، زید هغه سړی په کورکی پټ سوی پیداکی. زید هغه دلاس څخه ونیوی او دباندی یی را وایستی دزید ښځی دیوبل وار (راتلو) اقرار وکی خو دناجائز فعل څخه انکار کوی. زید هغه ته طلاق ورکړی اوکه یې ورنه کړی؟ په زید پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ عمر ډیر پښیمانه دی چې دراز ښکاره کولو په وجهی سره به زه ګنهګار یم. څه حکم دی؟

جواب: طلاق ورکول ضروری نه دی، ددغه ښځی ساتل جائزدی. (۲) اوزید پسی لمونځ درست دی (۳). اوعمر هم ښه وکړل ولی چې اوس دغه غیر سړی ته تنبیه وسوه، اوښځه به هم شاید داسی حرکت بیا ونه کړی، په هغې دی توبه وایستل سی. فقط

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰) ظفیر.

(۲). لایجب علی الزوج تطلیق الفاجرة ولا علیهاتسریح الفاجر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۴۰۲ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۵۰). ظفیر

(۳). کله چې دزید دخوښی څخه خلاف دهغه ښځی دا حرکت کړیدی نودزید په دې کی څه جُرم نسته ، البته دزید وظیفه ده چې هغه ښځی ته تنبیه ورکړی، اوداسی انتظام وکړی چې دهغه ښځه نه پردغه ډول حرکت کولو باندی جرأت وکړی اونه هغې ته یوداسی موقع په لاس ورسی، که دزید دطرف څخه په دې سلسله کی سترګی پټول وسی، اوغوږ پرې ونه ګوروی نوهغه ته به دیَوث (دؤس) ویل کیږی اودهغه امامت ورکول به مکروه وی. ظفیر

دآنریری مجسټریټ (یوقسم حکومتی منصب والا) **امامت**: **سوال**: (۷۳۴) یو سړی کم چې دښار دټولو څخه دلوی جامع مسجد امام، دخپلی علاقی مفتی او د مسلمانانو دنکاح اوطلاق دمحکمی قاضی دی. داسلام، اهلِ اسلام اوشعائر اسلام داماکن مقدسه اوجزیرة العرب وغیره موجوده نازك ترین حالات اوداسلام ددښمنانو داسلام په خرابولو کی پوره کوشش اوسرګرمی وینی، اودعدم موالات باکفار (دکفارو سره دورور ګلوی نه کولو) حکم الهی څخه دخبرتیا سره هم دموجوده حاکمانو دطرف څخه ورکول سوی آنریری مجسټریټی دڅه موهومی نفع یادضرر په احتمال سره پرینښوول نه خوښوی بلکی هغه دخپل ځان دپاره ددی پرینښوول باعث دذلت اورسوایی اوددی وجود دموجب دعزت اوفخر ګڼی. که هرڅومره مسلمانانو په زور سره، نرمی اومحبت سره په تنهایی کی اوپه مجلسونوکی پوه کړی اوډیر واره یی آګاه کړی اوددی خبری مطالبه یی ځینی وکړه لیکن په هغه باندی هیڅ اثر ونسو. آیاداسی سړی دامامتی قابل دی اوآیا دده لمونځونه او جمعی اداء کول شرعًا صحیح اودرست دی، اوآیاپه شرعی مسائلو کی دداسی سړی فتوٰی اودنکاح اوطلاق په معاملاتو کی دهغه فیصله قابل اعتماد کیدی سی. بینوا تؤجروا.

جواب: بسم الله الرحمٰن الرحیم. الحمد لله وحده. نسی کیدی اودجماعت فرض دی چی دی ددغه منصب څخه معزوله کړی. دستخط مولانا ابو الکلام آزادؒ.

جواب: داسی سړی دامام جوړولولائق نه دی ولی چی په آنریری مجسټریټی کی دشریعت څخه خلاف حکم کول لازم دی څنګه چی ظاهره ده اوپه مصداق دآیت کریمه: وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ الله فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ، ([1]) دی فاسق دی اودفاسق امامت مکروه دی. کما فی کتب الفقه ([2]).

قادیانی ته دلور ورکونکی امامت: **سوال**: (۷۳۵) چی دچا زوم احمدی (یعنی قادیانی) وی اوهغه تعلق ورسره ساتی نوپه هغه پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی دامام جوړولو لائق نه دی ، ترڅو پوری چی دهغه زوم دتوبی او تجدیدِ ایمان څخه وروسته دوباره نکاح ونه کړی یاچی دغه سړی خپله لور دهغه څخه جلا نه کړی. ([3]) فقط. (احمدی (قادیانی) په متفق طورباندی کافردی. لهٰذا دهغه سره دمسلمانی

([1]). المائده ۷. ظفیر

([2]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (رد المحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تحریمه ای الفاسق کراهة تحریم =

انجلیٰ نکاح جائزنه ده، اونه دهغه سره خپل دینی تعلق ساتل درست دی. ظفیر)

دغیر متعصب غیر مقلد امامت: **سوال**: (۷۳۶) په داسی غیر مقلدینو پسی لمونځ جائز دی که نه څوك چی متعصب اودبزرگانو په شان کی بی ادبه نه وی اوائمه اربعه حق گنی او دهغه شرائطو هم خیال ساتی دکمو سره چی دامام صاحب په نزد لمونځ فاسدیږی؟

جواب: په داسی غیر مقلدینو پسی لمونځ صحیح (۱) دی په دی شرط چی دهغوی عقائد داهل سنت والجماعت موافق وی. فقط

دیوی ورځی په متعین کولو سره دمړ کیدلو دعوٰی کونکی سړی امامت: **سوال**: (۷۳۷) یوسړی ددی خبری دعوٰی کوی چی زه به د۲۵ ذی الحجی څخه دمحرم ترلسم تاریخ پوری ضروری مړ کیږم لیکن هغه تراوسه پوری ژوندی دی. داسی دعوٰی کونکی مسلمان پاته کیږی اوکه نه؟ دهغه نکاح بحال ده اوکه نه؟ امامت دهغه درست دی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی کافرنه سو مسلمان دی اونکاح دهغه قائمه ده، خوداسی دعوٰی هغه ته کول نه وو پکار، دا دهغه غلطی وه، داسی دعوٰی کول گناه ده، هغه ته ددی څخه توبه کول پکاردی اوآئنده دی داسی دعوٰی نه کوی (۲). که چیری هغه توبه وکاږی نولمونځ وریسی بی کراهته صحیح (۳) دی. فقط

دغلط خوان امام امامت: **سوال**: (۷۳۸) کم سړی چی سورة فاتحه داسی وایی چی دالرّحمٰن ح اومیم، اودالرّحیم ح مشدده وایی اوایَّاكَ نَعْبُدُ، اِیَّاگَ په نون دغنی او گاف سره وایی. اواِیَّاكَ نَسْتَعِیْن، اَنْ یَّاگَ په نون دغنی اوگاف سره وایی. اومستقیم مستکیم، اومشدد مخفف اومخفف مشدد، اوممدود مقصور اومقصور ممدود وایی. په داسی سړی پسی داَقْرأ اوصحیح ویونکی په موجودگی کی لمونځ کیدی سی اوکه نه؟

= (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰) ظفیر.

(۱). ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعات لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره والتفصیل فی الشامی (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲-۵۲۳) ظفیر.
او دمسئلې دزیات تفصیل دپاره دې علمآء کرام او محققین ددې حصې په پای کی درج سوی رساله وگوری.

(۲). قال رسول الله ﷺ خمس لا یعلم الا الله ثم قرأ ان الله عنده علم الساعة الخ (مشکوٰة کتاب الایمان ص۱۲).ظفیر

(۳). التائب من الذنب کم لاذنب له (مشکوٰة باب التوبه ص ۲۰۲) . ظفیر

جواب: ددی سړی امامت جائزنه دی. سره ددی چی اَقْرَأ اوصحیح ویونکی موجود دی، په ده پسی لمونځ صحیح نه دی، نه دده لمونځ صحیح کیږی اونه دمقتدیانو ([1]). فقط

څوک چی مور وهی دهغه امامت: **سوال**: (۷۳۹) کم سړی چی خپله مور دکور څخه وباسی اووی وهی اوښکنځل ورته وکړی اوبی ادبی یی وکړی نودغه سړی امام کیدی سی اوکه نه؟

جواب: داسی سړی سخت ظالم اوفاسق اوبدکار دی، دخَسِرَ الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَۃَ مصداق دی هیڅکله لائق دامام جوړولو اودپیر اومقتدٰی جوړولو نه دی. ([2]) اومصداق دضَلُّواْ وَاَضَلُّواْ اوددی شعر دمولانا رومی قدس سره السامی دی :

ای بسا ابلیس آدم رونی هست　　　پس بهر دستی نباید داد دست

فقط، (ځکه چی په قرآن کریم کی صراحت دی. ولا تقل لهما اف ولا تنهرهما وقل لهما قولاً کریمًا الآیة. ظفیر)

د گورنمنټ (برطانیه) دخطاب یافته سړی امامت: **سوال**: (۷۴۰) یوسړی ته دګورنمنټ (سرکار اوحکومت) څخه خطابات ورکول سوی دی اودانګریزانو سره ملاقاتونه کوی اورنګروټ یی هم ښه کړی دی لیکن داسلامی خلافت سره یی هم دزړه همدردی ده، آیا داسی سړی مسلمان نه دی اوپه هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: خلاصه دجواب په دی صورة کی داده چی ددی سړی تکفیر کول نه دی پکار. او که چیری هغه دما مضٰی څخه تائب سی اوداسلام اواهلِ اسلام سره په رشتنی زړه سره همدردی کوی او داهلِ ظلم اعانت هیڅ قسم دهغوی په ظلم کی نه کوی نودهغه امامت وغیره درست دی، اولمونځ په هغه پسی درست ([3]) دی. فقط

دمتهم فاسق امامت: **سوال**: (۷۴۱) دیوی انجلۍ خسر بدنیته دی دخپل زوی دښځی عزت خرابول یی غوښتل، دانجلۍ بیان دی چی ما دسرمینځلو څخه وروسته قمیص کښلی وو چی زما خُسر پردیوال راواوښتی اوکور ته راغی ماشور جوړکی نوهغه وتښتیدی، نوره څه خبره ونه سوه. نوپه دی سړی پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟ اوښځه دخپل خاوند

([1]). ولا غیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح کما فی البحر عن المجتبی وحرر الحلبی وابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائما حتما کالأمی فلا یؤم الا مثله ولا تصح صلاته اذا امکنه الاقتداء بمن یحسنه او ترک جهده اووجد قدر الفرض مما لا لثغ فیه هذا هو الصحیح المختار فی حکم الالثغ وکذا من لا یقدر علی التلفظ بحرف من الحروف او لا یقدر علی اخراج الفاء الا بتکرار (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۴۴ – ۵۴۵** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۸۱**). ظفیر

([2]). ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۲۰**).ظفیر

([3]). التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب التوبه والاستغفار ص ۲۰۲) . ظفیر

دنکاح څخه خارجه سوه اوکه نه؟ دداسی پلار سره دی زوی څه سلوك وکړی؟ بینوا تؤجروا.

جواب: کله چی څه خبره موجبه دحرمت مصاهرت ونه سوه، لکه څنګه چی دښځی بیان دی نودغه ښځه په خپل خاوند باندی حرامه نه سوه. لیکن داسی متهم فاسق سړی امام جوړول نه دی پکار. که څه هم لمونځ په هغه پسی کیږی. خوامام جوړول یی مناسب نه دی، کله چی دهغه دشرارت څخه معلومه [1] سوه.

اوپه موجوده حالت کی زوی ته دپلار سره څه ګستاخی کول نه دی پکار لیکن که دخپلی ښځی دجلا ساتلو انتظام کوی نو ودی کړی. فقط

دسهار دلمونځ ترک کونکی امامت: **سوال**: (۷۴۲) دجومات امام ته دوقف څخه پنځلس ۱۵ روپی دمیاشتی تنخوا ورکول کیږی، لیکن هغه همیشه دسهار دلمونځ ورکولو دپاره نه حاضریږی ولی چی تراتو ۸ بجو پوری بیده وی آیا داسی سړی فاسق دی اوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی اوکه نه؟

جواب: دیووخت دامامت نه کولو سره دخوب وغیره هغه ته تنخواه اخستل ممنوع نه دی اونه دا دامامت دکراهت وجه کیدی سی څنګه چی په حدیث شریف کی دی لا تفریط فی النوم انما التفریط فی الیقظة الحدیث [2]. البته که چیری تارك کیدل دسهار دلمانځه محقق سی نوبیاهغه فاسق دی، لمونځ ورپسی مکروه [3] دی. لیکن که چیری هغه ووایی چی زه لمونځ کوم نوبیایی تکذیب جائز نه دی. فقط

صاحب هدایی ته دمشرک ویونکی امامت: **سوال**: (۷۴۳) کم سړی چی صاحب هدایی ته مشرك وایی اوهدایی ته منطق فلسفه وایی اوصاحب مذهب ته بدعتی وایی. اوهغه ته په دی لقب سره خط لیکی: السلام علیکم من اتبع بهدایة محمد ﷺ. په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی فاسق دی لمونځ ورپسی مکروه تحریمی دی کما صرح به فی الشامی ان امامة الفاسق مکروه تحریمًا. [4] فقط

([1]). ان کراهة الفاسق کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰) ویکره تقدیم العبد الخ والفاسق لانه لایهتم لامر دینه الخ وان تقدموا جاز لقوله ﷺ صلوا خلف کل بر وفاجر (هدایه باب الامامة ج۱) . ظفیر

([2]). مشکوٰة. باب تعجیل الصلوة ص ۲۱ . ظفیر

([3]). وتارکها (ای الصلوة) عمدا مجانة ای تکاسلا فاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلوٰة ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۵۲). ظفیر

([4]). ای ان کراهته کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

دګوډ امامت: **سوال**: (۷۴۴) یوسړی ګوډ دی بغیر دلکړی څخه ګرځیدی نه سی اونه سیده دریدی سی، په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: لمونځ په هغه پسی صحیح دی لیکن ښه داده چی که چیری بل سړی کم چی ګوډ نه وی دامامت لائق موجود وی نوهغه دی امام جوړسی، وکذا یکره خلف اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولی الخ شامی (۱). فقط

څوک چی متهم وی دهغه امامت: **سوال**: (۷۴۵) دزید مور څوواره داویلی دی چی دزید دښځی سره زما خاوندصحبت کوی اوزید دمور په وینا باندی بالکل یقین نه کوی په دی صورة کی څه حکم دی اوزید امام جوړیدی سی اوکه نه؟

جواب: دزید دمور په دی وینا سره دزید ښځه پرزید باندی حرامه نه سوه. (۲) او دداسی خبر یقین نه دی کول پکار. (۳) اوزید امام جوړول صحیح دی. فقط

دبواسیرو والا امامت: **سوال**: (۷۴۶) دچاچی دبواسیرو مرض وی اوکله کله ځینی وینه څاڅکی داسی سړی پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: کم وخت چی ورته وینه نه راځی اواودس یی وی هغه وخت به لمونځ ورپسی صحیح (۴) وی. فقط

دحقی خبری دپیروی نه کونکی امامت: **سوال**: (۷۴۷) دوی فریقی مدعی داهل حدیثو دی تقریباً دځلورو پنځو کالو څخه یی په یوه خبره کی تنازع سویده، په هغوی کی یوه ډله خونرم اوداسلام او اهلِ اسلام مطیع دی اودوهم فریقه سخت ضده اوسنګدله دی اودحق خبری پیروی نه کوی، دهغوی دپاره څه حکم دی، اوددوی امامت څنګه دی؟

جواب: ظاهره ده چی ضدی فریقی کمی چی په نفسانیت سره دحق خبری پیروی نه کوی په باطله باندی دی اوعاصی اوفاسق دی اوامامت دهغوی مکروه (۵) دی. باقی پوره خبره په پوره واقعی معلومیدلو سره کیږی. فقط

په ترتیل سره دقرآن نه ویونکی امامت: **سوال**: (۷۴۸) دزید په تالو کی په سبب دناجوړی سوری جوړ سوی دی اودحرفونو ادائیګی پوره نه سی کولی اوپه ترتیل سره ویل نسی

---

(۱). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲. ظفیر

(۲). تزوج بکرا فوجدها ثیبا وقالت ابوك فضنی ان صدقها بانت بلا مهر والا لا ، (الدر المختار علی هامش رد المحتار، فصل فی المحرمات ج ۲ ص ۳۸۴ ، ط.س. ج ۳ ص ۳۲). ظفیر

(۳). منها الشهادة فی الزناء یعتبر فیها اربعة من الرجال (هدایه کتاب الشهادات ص ۱۳۸ ج۱) . ظفیر

(۴). ځکه چی دی دمعذور په حکم کی نه دی . ظفیر

(۵). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

کولی، دزید ښخه دزیات ښه ویونکی په موجودګی کی به دزید امامت درست وی، او لمونځ به په ده پسی صحیح وی اوکه نه؟

جواب: لمونځ په ده پسی هم کیږی ترڅو پوری چی څه غلط لمونځ ماتونکی نه وی لیکن ښه داده چی بل سړی کم چی صحیح ویل کوی او قرآن کریم په ترتیل اوتجوید سره وایی هغه دی امام جوړسی ([1]) . فقط

دشیعه ګانو دجنازه کونکی امامت: **سوال**: (۷۴۹) یوسړی چی دجامع مسجد امام وی او دشیعه ګانو په جنازی اوتجهیز اوتکفین کی برابر شامل سی اوخلګوته ترغیب ورکوی نودهغه څه حکم دی؟

جواب: داسی سړی عاصی اوفاسق دی، دی امام جوړول اوورپسی لمونځ کول مکروه ([2]) دی. فقط

دنوی مسلمان امامت: **سوال**: (۷۵۰) په نوی مسلمان پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: جائزدی ([3]).

دمعذور امامت: **سوال**: (۷۵۱) دری څلورکسان معذوره دی، دامامتی لائق نه دی په داسی حالت کی به جلا جلا ته لمونځ کوی اوکه په دوی کی به څوك امامت کوی؟

جواب: دمعذورو امام معذور کیدلی سی ([4]). فقط

دامام انتخاب: **سوال**: (۷۵۲) یوجومات دجولاګانو په نوم سره مشهور دی، جولاګانو امام وایستی اودخپل قوم حافظ یی راوغوښتی او (امام یی) وساتی، آیا دنورو مسلمانانو حق په دغه جومات کی سته؟

دافیون استعمالونکی امامت: (۷۵۳) یوامام دمسئلی ښخه خبر دی، په لمانځه کی قرآن کریم په قراءة سره وایی اوالفاظ په پوره طور سره اداء کوی خوافیون خوری په هغه پسی

([1]). والاحق بالامامة تقديما بل نصبا الاعلم باحكام الصلوة بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقيل واجب وقيل سنة ثم الاحسن تلاوة وتجويدا للقراءة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ – ۵۲۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷ – ۵۵۸) . ظفير

([2]). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) ان كراهة تقديمه اى الفاسق كراهة تحريم (رد المحتار ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفير

([3]). والاحق بالامامة الخ الاعلم باحكام الصلوة الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۵۲۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفير

([4]). ولا طاهر بمعذور الخ وصح لوتوضا على الانقطاع وصلى كذلك كاقتداء بمفتصد امن خروج الدم وكاقتداء امرأة بمثلها وصبى بمثله ومعذور بمثله (درمختار) اى ان اتحد عذرهما واختلف لم يجز الخ (رد المحتار باب الامامة ص ۵۴۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸ ، ۵۷۸). ظفير

لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

دغلط ویونکی امامت: (۷۵۴) امام دمسئلی څخه خبر نه دی، قرآن کریم غلط وایی، کپړی جوړوی اوخرڅوی یی، په هغه پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: (۱) دکمو مقتدیانو جماعت چی زیات دی دهغوی په رایی سره امام مقرر کیدی سی خو بهرحال امام لائق دامامت پکاردی برابره خبره ده که دهرقوم څخه وی. (۱)

(۲) په افیون خورونکی پسی لمونځ مکروه دی، هغه امام جوړول نه دی پکار. (۲)

(۳) دکپړی جوړولو په وجهی سره دهغه په امامت کی هیڅ نقصان یا فساد نه راځی، لیکن که قرآن شریف داسی غلط وایی چی په هغه سره په لمانځه کی نقصان یافساد راځی نو هغه دی امام جوړنه سی. (۳) فقط

چی دخاوند والا ښځی نکاح تړی دهغه امامت: **سوال**: (۷۵۵) دیوی ښځی خاوند ددروکالو څخه په لام (دفوج په ډلگی) باندی تللی دی. دری میاشتی سوی دی چی دهغه خط راغلی وو. اوس معلومه نه ده چی هغه ژوندی دی اوکه مړسوی دی، بل داچی دښځی دپنځو میاشتو حمل دی، ددغی ښځی نکاح یوسړی تړلی ده. سره ددی چی خلگو منع کوی، په داسی سړی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

دخاوند داری ښځی چی څوک دبل چاسره نکاح وتړی، دهغه امامت: **سوال**: (۷۵۶) یوسړی دیوی ښځی نکاح وتړله. دچاخاوند چی په لام (فوج) باندی تللی وو، اوذکر سوی سړی داوویل چی کم وخت ددی خاوند راسی دابه بیرته ورواپس کړم اوهمداسی وسوه، تر شپږو میاشتو پوری ددی (نوی) خاوند په کورکی وه، دهغه څخه وروسته یی مخکنی خاوند راغی اوښځه یی بوتله. په داسی نکاح تړونکی پسی لمونځ کول جائزدی که نه؟

جواب: (۱) په دی حالت کی دهغه دوهمه نکاح شرعاً درسته نه ده، اوچاچی سره دعلمه دهغې دوهمه نکاح وتړله، هغه فاسق دی، په هغه پسی لمونځ کول مکروه دی. (۴)

(۲) په داسی نکاح کونکی اونکاح تړونکی پسی هم لمونځ مکروه دی، دافعل حرام دی اومرتکب ددی فاسق مردود الشهادة (۵) دی. فقط

---

(۱). اوالخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم ولو قدموا غیر الاولی اساءوا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱) ظفیر.

(۲). وکذاتکره خلف الامرد وسفیه ومفلوج وابرص شاع برصه وشارب الخمر واکل الربا ونمام ومراء متصنع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفیر

(۳). ولاغیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح (ایضاً ص ۵۴۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۱). ظفیر

(۴). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار، باب الامامة ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۵). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار=

دمعالج امام امامت: **سوال**: (۷۵۷) اگر امام محله بعیادت معالجه مصروف مانده اهتمام آن نماید درضمن آن بعض نساء مریضه را هنگام درد ناف دست برنافه نهاده عزائم وافسونها بدهد پس این چنین مبتدع نماز جائز است یانه؟

دمبتدع امام امامت: **سوال**: (۷۵۸) درکشمیر بعض جایها شیوع ساخته اند که بوقت ختنه اذان میگویند واین را ازقبیل سنن پندارند اگر امام محله این بدعات را ترویج دهد خلف وی نماز قوم درست است یا مکروه؟

جواب: (۱) فقهاء طبیب رابغرض علاج دست براعضاء اجنبیه نهاده درست داشته اند ولیکن درعزائم وافسونها جواز این یافته نشده. ([1])پس این چنین امام فاسق باشد وامامت اومکروه باشد وتقررش برامامت تا وقتکیه اوتوبه ازبدعات نکنند جائز نیست ([2]). فقط

(۲) بوقت ختنه اذا گفتن مشروع نیست وسنت پنداشتن اورا جهل است وامامتش مکروه است. ([3]) فقط

دبدعتی امامت: **سوال**: (۷۵۹) څوك چی په بدعت کی شریکیږی یاکوشش کوی اوځان لغړ کړی لوبی کوی دهغه امامت څنګه دی؟

جواب: دداسی سړی امامت مکروه ([4]) دی. فقط

چی په ښادی کی باجه بوزی دهغه امامت: **سوال**: (۷۶۰) که چیری څوك امام دخپل زوی په واده کی باجه بوزی اودا عذر بیان کړی، چی انجلۍ والاؤ ویلی دی چی که باجه دی راوسته، نونکاح به درکړم، داعذر شرعًا جائزدی اوکه نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ جائز دی که نه؟

جواب: داعذر شرعًا مسموع نه دی اوددی عذر په وجهی سره باجه بیولل درست نه دی. که چیری امام مذکور داسی کړی وی نوهغه فاسق دی اوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی.

= باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰). ظفیر

([1]). ولا یجوز النظر الیه بشهوة ای الا لحاجة کقاض الخ وکذا مرید شرائها اومداواتها الی موضع المرض بقدر الضرورة (رد المحتار باب شروط الصلوة سترالعورة ص ۳۷۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۷). ظفیر

([2]). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰). ظفیر

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول ﷺ لا بمعاندة بل بنوع شبهة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰). ظفیر

([4]).ایضًا. ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ ظفیر

فقط (۱)

دجومات دخدمتګار امامت: **سوال**: (۷۶۱) بکر دجومات خدمتګار دی، چی امام موجود نه وی نولمونځ ورکوی آیاپه ده پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: په ده پسی لمونځ صحیح دی. فقط (که چیری هغه دامامت لائق وی یعنی دلمانځه دمسائلو څخه خبر وی اوقرآئت صحیح وایی. ظفیر)

په ناظره خوان پسی دعالم لمونځ: **سوال**: (۷۶۲) دجومات امام چی ناظره خوان اوډیر لمونځ ګذاردی دماښام په وخت کی یی لمونځ ورکی، په دی کی یوعالم راغی په زور یی په امام باندی لمونځ مات کی. اوپخپله یی لمونځ ورکی. په دی صورة کی شرعاً څه حکم دی؟

جواب: دمولوی صاحب دافعل نهایتی قبیح اومعصیت دی، هغه سخت ګنهګار سو. هیڅ وجه په ظاهره داسی نه معلومیږی چی فرض لمونځ دامام اومقتدیانو مات سی. کیدی سی چی دهغه داخیال وی چی په ناظره خوان پسی دعالم لمونځ نه صحیح کیږی. حالانکی داغلطه ده. (۲) فقط

دشمس العلماء امامت: **سوال**: (۷۶۳) دسرکار دطرف څخه چی چاته دشمس العلماء خطاب ورکول سوی وی دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

جواب: په قاعدی د: صَلُّوا خَلْفَ کُلِّ بَرِّ وَفَاجِرٍ (لمونځ کوئ ترشا دهر نیك سړی اوبد سړی) سره لمونځ په هغه پسی کیږی لیکن دتنبیه په غرض سره داسی امام مقررول نه دی پکار. فقط

دکونډی په نکاح کی دخلل اچونکی امامت: **سوال**: (۷۶۴) چی کونډه ښځه په نکاح کولو باندی رضامنده وی اویوسړی دهغه په نکاح کی خلل اچوی نوپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: کونډه ښځه چی په خپل کفو کی نکاح کول غواړی نوهیڅ ولی یاغیر ولی ته هغه دنکاح څخه بندول نه دی پکار، ځکه چی بی دشرعی وجهی څخه یوه ښځه دنکاح څخه

---

(۱). وکره کل لقوله ﷺ کله لهو السملم حرام الا ثلاثة ملاعبته اهله وتادیبه لفرسه ومناصلته بقوسه (درمختار) قوله کره کل لهو ای کل لعب وعبث الخ شامل لنفس الفعل واستماعه کالرقص والسخریة والتصفیق وضرب الاوتار من الطنبور والبربط والرباب والقانون والمزمار والسنج والبوق فانها کلها مکروهة لانها زیّ الکفار واستماع ضرب الدف والمزمار وغیره ذلك حراما وان سمع بغتة یکون معذورا ویجب ان یجتهد ان لا یسمع قهستانی (ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۴۷-۳۴۸ ج **۵** ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**). ظفیر

(۲). واعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقًا (درمختار) ای وان کان غیره من الحاضرین من هو اعلم واقرأ منه (رد المحتار باب الامامة ص **۵۲۲** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**). ظفیر

بندول ګناه ده. فقط ، (اوپه دی باندی اصرار فسق دی لهٰذا دهغه امامت مکروه دی. (١)
په قرآن کريم کی دی وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ . ظفير)

دجوړی اخستونکی امام امامت: **سوال**: (٧٧٥) يوه ډله داهلِ اسلام چی په ظاهره لمونځ نه کوی اوپټ عبادت کوی اودنشی وغيره شيان استعمالوی. دغه خلګو يوه جلسه وکړه او دعلاقی دمشرانو څخه يی معافی وغوښته، ټولو دهغوی په معافی باندی دعوت قبول کی اوپه واده کی ورسره شريك سول، هغوی اقرار وکی چی موږ به لمونځ هم کوو اوامام ته يی جوړه ورکړه نوامام قصورمند دی اوکه نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: کله چی دغه ډله داهل اسلام څخه ده اودلمانځه کولو وعده يی وکړه اولمونځ يی شروع کی اودټولو مذهبی فرائضو اداء کولو وعده يی وکړه، نو دهغوی په واده کی شرکت درست (٢) دی. اوډوډی خوړل يی جائز دی. اوکم امام صاحب چی هلته ډوډی وخوړل اوجوړه يی واخسته هغه قصورمند نه دی، په هغه پسی لمونځ جائزدی. فقط

دګورنمنټ (**حکومت**) **پينشن** (**امداد** Pension) **خوروونکی امامت**: **سوال**: (٧٧٦) کم سړی چی دګورنمنټ پنشن خوری دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

جواب: امامت دهغه صحيح دی اولمونځ په هغه پسی درست دی. (٣) فقط

نمائش ته ددوکان وړونکی امامت: **سوال**: (٧٧٧) يوسړی نمائش ته دوکان بوتلی په هغه پسی لمونځ کيدی سی اوکه نه؟

جواب: په داسی سړی پسی لمونځ صحيح (٤) دی.

دغير مقلد امامت: **سوال**: (٧٧٧) زيد امام دی اومقتديان چی په هرجماعت کی کله تکبير وايی نوامام هغه وخت ودريږی چی کله په تکبير کی حَيَّ على الفلاح يا الله اکبر وويل سی، ددی څخه مخکی ټول تکبير په ناستی اوری، اويو مقتدی هم داسی کوی، دامام سره ولاړيږی. کله چی تکبير ختم سی هغه وخت امام الله اکبر وايی.

دامام ثنا پريښوول ښنګه دی؟ (٧٧٩) امام کله کله سبحانك اللهم ﷺ نه وايی اوسورة الحمد

---

(١). ويکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص٥٢٣ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٥٩-٥٦٠) ظفير.

(٢). التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب التوبة)

(٣). دګورنمنټ څخه په معاوضه کی امداد قبلول څه شرعی جرم نه دی اوپه دی وخت کی نورهم کله چی هغه دخپل ملازمت موده پوره کړی وی اوډپنشن مستحق ګرځيدلی وی. وجاز تعمير کنيسته وحمل خمر ذمی بنفسه اودابته باجر الخ (درمختار) قال فی الخانية ولو اٰجر نفسه ليعمل فی الکنيسة ويعمرها لاباس به لانه لامعصية فی عين العمل (رد المحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البيع ص ٣٤٥ ج٥، ط.س. ج١ ص ٣٩١ ؟). ظفير

(٤). په نمائش کی دوکان لګول جائزدی څه رکم چی په بازار کی دوکان وی اوټولی پيښی پکښی کيږی. ظفير

فوراً شروع کوی.

کم امام چې دوترو یو رکعات کوی، دهغه اقتداء: (۷۷۰) یوامام دوترو یورکعات کوی په هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: (۱) فقهاوو دالیکلی دی چې دلمانځه په آدابو کی دی چې کم وخت په تکبیر کی حیّ علی الفلاح ووایی هغه وخت دی امام اومقتدیان ودریږی اوکم وخت چې قدقامت الصلوة ووایی هغه وخت دی امام لمونځ شروع کړی، اوکه چیری دتکبیر ختمیدو څخه وروسته شروع کړی نو دابنه ([1]) ده.

(۲) دا دسنت څخه خلاف ده. ([2]).

(۳) داسړی امام جوړول ښه نه دی، دی غیر مقلد معلومیږی په ده پسی لمونځ حتی الوسع مه کوی، بل سړی حنفی عالم اومتقی امام ([3]) جوړ کړی.

خاوند په تراویحو کی دښځی اقتداء وکړی اوکه نه؟ سوال: (۷۷۱) دزید ښځه دقرآن حافظه ده که چیری په رمضان شریف کی دهغه خاوند اوزوی اولونی دهغې اقتداء په فرضو او تراویحو کی اوکړی نوجائزدی اوکه نه؟ اوکه چیری هغه (حافظه) یوازی تراویح کوی نو په جهرسره دقرآن قرآئت درست دی اوکه نه؟

جواب: ولایصح اقتداء رجل بالمرأة وخنثی وصبی مطلقًا الخ درمختار ([4]) ویکره جماعة النساء ولوفی التراویح. ([5]) درمختار. ولا تجهر فی الجهریة بل لو قیل فی الفساد بجهرها لامکن بناءً اعلی ان صوتها عورة. شامی ([6]) ص ۳۴۹ ج۱. ددی روایاتو څخه معلومه سوه چې دسړی لمونځ په ښځی پسی نه صحیح کیږی اویوازی دښځو جماعت هم مکروه تحریمی دی، اوښځه یوازی هم په جهری لمونځ کی جهر نسی کولی. فقط

([1]). والقیام لامام ومؤتم حین قیل حی علی الفلاح الخ ان کان الامام بقرب المحراب والا فیقوم کل صف ینتهی الیه الامام علی الاظهر وان دخل من قدام قاموا حین یقع بصرهم علیه الخ وشروع لامام فی الصلوة مذ قیل قد قامت الصلوة ولو اخر حتی اتمها لا باس به اجماعا وهو قول الثانی والثلاثة وهواعدل المذاهب الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار آداب الصلوة ص ۴۴۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۹). ظفیر

([2]). وسننها رفع الیدین للتحریمة الخ والثناء والتعوذ والتسمیة (ایضًا سنن الصلاة ج ۱ ص ۴۴۳ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۴ – ۴۷۵). ظفیر

([3]). وکذا تکره خلف امرد الخ زاد ابن ملك ومخالف (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۲ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

([4]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲ – ۵۷۷ . ظفیر

([5]). ایضًا ص ۵۳۸ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۵ . ظفیر

([6]). ردالمحتار فصل تالیف الصلوة تحت قوله وتلصق بطنها الخ ص ۴۷۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۰۴. ظفیر

دشطرنج دلوبه کونکي امامت: **سوال**: (۷۷۲) کم حافظ چی دشطرنج لوبه کوی، چی لمونځ یی هم قضاسی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: دهغه امامت مکروه (۱) دی. فقط

دامن دجرګي دغړي امامت: **سوال**: (۷۷۳) دګورنمنټ دطرفه چی کمه دامن جرګه قائمه سوی ده په هغه کی چنده ورکول اودهغه غړی جوړیدل څنګه دی اوکم خلګ چی غړی (ممبران) جوړسوی دی دهغوی دپاره څه حکم دی، اولمونځ په هغوی پسی جائزدی اوکه نه؟

جواب: په هغه کی چنده ورکول او (غړی) ممبر یی جوړیدل اوکوشش کول په خلاف کی درست نه دی اوهغوی په حقیقت کی داسلام دشوکت اوداسلامی خلافت دخرابولو کوشش کوی. دداسی خلګو حال نهایتی خطرناك دی اودوی امام جوړول مکروه دی (۲). فقط

دعنین امامت: **سوال**: (۷۷۴) په عنین (نامرده) پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: په عنین پسی لمونځ درست دی (۳) . فقط

داصلاح ساز امامت: **سوال**: (۷۷۵) یوسړی حنفی قاری اومتقی، شریف دلمانځه روژی پایبند او دضروری مسائلو څخه خبر دی، په دی وخت کی دهغه کسب اصلاح سازی ده اوپه اصلاح سازی کی چی څه حاصلیږی په هغه سره دکور او اولاد پالنه کوی، آیا شرعًا داکسب جائزدی اوکه نه؟ اودداسی سړی امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: مذکور کسب حلال دی اوامامت دهغه درست دی، په دی وجهی سره دهغه په امامت کی هیڅ کراهت نسته.

دچالور چی دډمتوب کسب کوی دهغه امامت څنګه دی؟ **سوال**: (۷۷۶) شیخ سخاوت دلمانځه روژی پایبند دی دهغه لور دډمتوب کسب کوی اوسخاوت دهغې سره اوسی. دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

جواب: که چیری په داسی حالت کی دخلګو دهغه دامامت څخه کراهت وی نوهغه ته امام

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱) په دی وجهی سره چی دشطرنج لوبه مکروه تحریمی ده. وکره تحریما اللعب بالنرد وکذا الشطرنج (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۴۷ ج۵). ظفیر

(۲). ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان (قرآن پاك) ویکره تقدیم الفاسق ایضًا لتساهله فی الامور الدینیة (غنیة المستملی ص ۳۵۱ . ظفیر

(۳). په عنین کیدلو سره په امامت باندی هیڅ اثر نه پریوزی، داځه ظاهری اوښکاره عیب نه دی کم چی باعث دکراهت وی. والله اعلم. ظفیر

کیدل مکروه دی. (۱) فقط

دښکنځل کوونکی امامت: **سوال**: (۷۷۷) یوسړی اولادته دمور، خور ښکنځل کوی دحرامی بچی اودحرامو اولاد ورته وایی، اووایی چی په نطفه کی دی فرق دی، یوه لور یی پیغله ده اوپه هغې باندی پرده بالکل نه کوی. ددا سی سړی دپاره څه حکم دی. امامت دده څنګه دی؟

جواب: دذکرسوی سړی اکثر کارونه دشریعت څخه خلاف اوحرام اومعصیت دی. لهٰذا په ده باندی دفسق حکم لګیږی، دی فاسق دی، اولمونځ وروپسی مکروه تحریمی (۲) دی. فقط

څوک چی پرسجده باندی قدرت نه لری دهغه امامت څنګه دی؟ سوال: (۷۷۸) کم سړی چی دسجدی څخه عاجزه وی اوباقی ټول ارکان رکوع، قومه وغیره په ښه شان سره اداء کوی اوپه ولاړی لمونځ کوی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: په هغه پسی لمونځ دهغو خلګو څوك چی سجده کولی سی صحیح نه دی. په در مختار کی دی. والعبرة للعجز عن السجود حتٰی لوعجز عنه وقدر علی الرکوع اومأ (۳) الخ.

څوک چی غلطه غوښتنه نه منی دهغه امامت جائز دی؟ سوال: (۷۷۹) که چیری استاذ شاګرد ته ووایی چی ته دخپل استاذ کونډی (ښځی) ته څوك چی فی الحاله ستا په نکاح کی ده طلاق ورکړه کنی ته زما څخه عاق یی. که چیری شاګرد طلاق ورنه کړی نودا وجه دعاق کیدلو کیدی سی اوکه نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اوعاق کول درست دی اوکه نه؟

جواب: داوجه دشاګرد دعاق کیدلو نسی کیدی اوپه دی وجهی سره شاګرد عاق کول صحیح نه دی اوکه چیری په دی وجهی سره استاذ هغه عاق کړی نوهغه په حقیقت کی عاق نه دی. اولمونځ په هغه پسی صحیح اودرست دی. فقط (۴)

---

(۱). فلو أم قوما وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه او لانهم احق بالامامة منه کره له ذالك تحریما لحدیث ابی داود لایقبل الله صلاة من تقدم قوم وهم له کارهون. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰) حدیث نبوی دی سباب المسلم فسوق وقتاله کفر، رواه مسلم . ظفیر

(۳). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۹. ظفیر

(۴). قال رسول الله ﷺ الطلاق ابغض المباحات (مشکوٰة کتاب الطلاق) بی وجهی دطلاق ورکولوحکم ناجائز =

دبد چلنه ښځې قتلوونکي امامت: **سوال**: (۷۸۰) یوسړی خپله ښځه دبدچلنی په وجه ووژله، دهغه په وجه یې یوولس کاله قید وخوړی، په داسی سړی پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: قتلول هغه ته جائز نه وو اوددی قتل په وجهی سره دی فاسق او دکبیری گناه مرتکب سو، توبه کول اودوارثانو څخه یې معافی غوښتل دده پرذمه لازم دی. (۱) که چیری ده توبه وکښله اوپه وارثانو یې دهغوی حق معاف کی نوامامت دده صحیح (۲) دی. فقط

دغلطو عقائدو والا امامت؟ **سوال**: (۷۸۱) یوسړی دجومات امام دی. اوهغه دماخستن دلمونځ څخه وروسته دیو بنگو څکونکی قوّال (نعت خوان) څخه دحضرت پیر صاحب قدس سرہٗ داقسم تعریف اوری چی: حضرت پیر (عبدالقادر جیلانی) صاحب یووخت دخپل مرید دپاره په قبرکی دمَنْ رَبُّكَ په سوال کیدلوباندی منکر اونکیر قیدکړی وه. اویووخت هغوی دډیرو مړو روحونه دملك الموت څخه راوشکول کله چی هغه دځلوم آسمان څخه تیریدی، اودغه قوّال داتولی خبری په لوړ آواز سره په جومات کی په صیغی دخطاب سره کوی، سجده دپیر صاحب دپاره مخصوص وایی، اودجومات امام یې یوه ذره هم نه منع کوی بلکی دهغه تائید کوی چی داهرڅه صحیح دی او دعاشق دپاره خو بالکل جائز دی. آیاپه داسی امام پسی لمونځ جائزدی اوبندونکی یې داولیاوو منکر دی اوکه نه؟

جواب: داسی امام ځوك چی داسی بی بنیاده دروغ قصی اوری اوتحسین یې کوی اوددی قصو تصدیق کوی فاسق دی، دامام جوړولو لائق نه دی، اولمونځ په هغه پسی مکروه (۳) دی. اوداسی باطلو قصو دویلو اوآوریدلو څخه بندوونکی پرحق باندی دی هغوی ته داولیاء الله منکر ویل اوبدعقیده گڼل فسق اومعصیت دی اوافتراء اوصریح دروغ دی. فقط

ددوکاندار امامت: **سوال**: (۷۸۲) دیودوکاندار نظر دسودا خرڅولو په وخت کی په سړو او پرښځو باندی پریوزی، دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

= فعل دی، ددی اتباع جائزنه ده ظفیر .

(۱). وعن معاویة رضی اللہ عنہ قال قال رسول الله ﷺ کل ذنب عسی الله ان یغفره الا الرجل یموت کافرا، والرجل یقتل مؤمنا متعمدا (کتاب الترغیب والترهیب کتاب الحدود لابن حجر ص۲۲۲). ظفیر

(۲). قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کم لاذنب له (مشکوٰة باب الاستغفار والتوبه فصل ثالث ص ۲۰۲). ظفیر

(۳). ویکره امامة الخ وفاسق (درمختار) ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

جواب: امامت دده جائز ([1]) دی. فقط

دغلط ویونکی امامت؟ سوال: (۷۸۳) یوسړی امام دی خوالفاظ صحیح نه وایی، دولاړ او پروت لفظ تمیز نه کوی، په هاء اوحاء کی هیڅ فرق نه کوی په داسی سړی پسی دحافظ لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: کم سړی چی لفظ صحیح نه اداء کوی اوپه هاء اوحاء اوتاء اوطاء وغیره کی فرق نسی کولی په هغه پسی دصحیح ویونکی حافظ لمونځ نه ([2]) صحیح کیږی. فقط.

دموچی اوغسال امامت: **سوال**: (۷۸۴) دموچی اوغسال په امامت کی څه کراهت سته اوکه نه؟

جواب: په موچی اوغسال پسی لمونځ درست دی اومحض په دی وجهی سره ددوی په امامت کی هیڅ کراهت نسته. البته که چیری څه بله وجه دکراهت وی نولمونځ به په دوی پسی مکروه وی، اودامامت دپاره ښه هغه سړی دی څوك چی دلمانځه دمسائلو څخه خبر وی اوقرآن شریف صحیح وایی، او ([3]) صالح وی. فقط.

په چاپسی دلمانځه نه کونکی امامت: **سوال**: (۷۸۵) که یوسړی دجومات دامام داجازی څخه بغیر دیوچا په اشاره باندی جمع ورکوی اوهغه اکثره په چاپسی لمونځ هم نه کوی، چی جمع ولاړه ووینی نویاخو واپس ولاړسی یاپه اودس وغیره کی دومره وخت ولګوی چی جمع ورڅخه وسی، په هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: لمونځ په هغه پسی صحیح دی اوداکار دده بددی اوشرعًا قبیح دی، چی په چا پسی لمونځ نه کوی ([4]). فقط

([1]). په نظر پریوتلو سره سړی نه فاسق کیږی، اولاً خوپه دی وجهی سره چی دادضرورت په وجهی سره دی کم چی جائزدی، ثانیًا په دی وجهی سره چی مخ په سترکی داخل نه دی، معاف دی، پرلپسی کتل البته منع دی. حضور ﷺ حضرت علی ؓ ته فرمایلی وه یاعلی لا تتبع النظرة فان لك الاولی ولیست لك الاخرة (مشکوٰة باب النظر الی المخطوبة ص ۲۲۹) دستر په سلسله کی فقهاء لیکی: وللحرة والخنثی جمیع بدنها ؒ خلا الوجه والکفین ؒ والقدمین وتمنع المرأة الشابة من کشف الوجه بین رجال لا لانه عورة بل لخوف الفتنة ؒ ولا یجوز النظر الیه بشهوة ؒ اما بدونها فیباح ولو جمیلا ؒ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الشروط الصلوة ص ۳۷۲-۳۷۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۲). ظفیر

([2]). الا غیر الالثغ علی الاصح الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

([3]). الاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقیل واجب وقیل سنة وهو الاظهر (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج۱ ص۵۴۱). ظفیر

([4]). فتسن اوتجب ثمرته تظهر فی الاثم بترکها مرة (ایضًا ص ۵۱۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۴). ظفیر

دجمعیة علماء هند فیصلی ته دغلطی ویونکی امامت: **سوال**: (۷۸۶) کم سړی چی دجمعیة علماء هند متفقه فیصله دروغ ګنی، په ذکرسوی فتوٰی باندی مهر لګونکو عالمانو ته، اوځوك چی دغه فتوٰی حق ګنی هغوی ته کافر وایی. په انګریزی مکتب کی سبق ورښیی په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی فاسق دی، لمونځ ورپسی مکروه تحریمی دی. کذا حققه فی الشامی ان الصلوة خلف الفاسق مکروه بکراهة التحریم ([1]). اوامام جوړول دداسی سړی حرام دی، ولی چی په دی کی دهغه تعظیم دی اوتعظیم دفاسق حرام دی. فقط

دختنی کونکی امامت: **سوال**: (۷۸۷) ځوك چی ماشومان سنتوی دهغه امامت څنګه دی؟

جواب: جائز ([2]) دی. فقط

دمعذور عالم امامت: **سوال**: (۷۸۸) معذور عالم دچا څخه چی مقتدیان کراهت (بد) کوی په هغه پسی دجوړ امام په موجودګی کی لمونځ صحیح دی اوکه نه؟

جواب: په درمختارکی دی ولا طاهر بمعذور الخ ولا قادر علی رکوع وسجود بعاجز عنهما ([3]) الخ. ددی عبارت څخه معلومه سوه چی دغیر معذور لمونځ په معذور پسی صحیح نه دی. اودکم سړی دامامت څخه چی مقتدیان کراهت کوی دهغه امامٍ کیدل مکروه دی ([4]). په مشکوٰة شریف کی دی: ثلاثة لاتقبل منهم صلاتهم من تقدم قومًا وهم له کارهون. الحدیث ([5])

دسیاح عالم امامت: **سوال**: (۷۸۹) کم سیاح عالمان چی دبل ملك څخه راځی دهغوی عقیده پوره معلومه نه وی حتّٰی چی بعضی پکښی اشتهاریان (ملزمان) هم وی اوامامتی کوی. که چیری یو مقرر امام دهغوی په مخکی امامتی وکړی نوپه دی کی خپله بی عزتی ګنی حالانکی خطبه هم صحیح نه سی ویلی. دداسی سیاح لاپته سړی امامت درست دی اوکه نه؟

([1]). وګوری ردالمحتار شامی باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ . ظفیر

([2]). دایوجائز کاردی، ددی په وجهی سره هیڅ عیب نه لګیږی. وقیل فی ختان الکبیر اذا امکنه ان یختن نفسه فعل الخ والظاهر فی الکبر انه یختن (درمختار) ای یختنه غیره (درالمختار کتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء ص ۳۳۷ ج۵ ، ط.س. ج۶ ص ۳۸۲). ظفیر

([3]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸ – ۵۷۹ . ظفیر

([4]). ولو ام قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفسادٍ اولانهم احق بالامامة منه کره له ذالك تحریمًا لحدیث ابی داود ولا یقبل الله صلاة من تقدم قومًا وهم له کارهون (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

([5]). مشکوٰة باب الامامة فصل ثانی ص ۱۰۰ . ظفیر

جواب: قول اوخیال ددغه سیاح غلط اوباطل دی، اوکم سړی چی خطبه غلطه وایی اود لمانځه دمسائلو څخه پوره خبر نه وی اودهغه دصحیح العقیده کیدو اطمینان نه وی نو هغه امام جوړول نه دی پکار بلکی عالم اودشریعت پیروی کونکی امام جوړکړی. فقط

چی دانګریز مخالف کافر ګڼی دهغه امامت: **سوال**: (۷۹۰) زید په ګورنمنټ سکول (حکومتی مکتب) کی کورس ښیی اووایی چی کم سړی زما ملازمت حرام ګڼی زه په خپله عقیده کی هغه کافر ګڼم. نوپه دی صورة کی په زید پسی لمونځ درست دی که حرام؟

جواب: په انګریزی سکول کی ملازمت که څه هم په یو درجه کی په بعضو صورتونو کی جائزهم دی لیکن ددی په قبیح والی کی خوهیڅ کلام نسته. لهٰذا زید چی دانګریزانو غلامی حرام ګڼونکی (خلګ) کافران ګڼی نودی په سخته غلطی کی دی، اوعاصی او فاسق دی لهٰذا په ده پسی لمونځ مکروه دی اودی امام جوړول حرام دی ([1]). فقط

دجاهل اومبتدع امامت: **سوال**: (۷۹۱ \۱) یوسړی دملا جمال الدین څخه بیعت کړی دی هغه صرف یوه پاره عَمَّ ویلی ده اودجمال الدین په وینا باندی لمونځ په تنګ وخت کی کوی حتٰی چی دجمعی لمونځ نن صباپه درو ۳ بجو کوی اودماخستن داپر یوولس ۱۱ بجی. اووایی چی دماخستن دلمانځه څخه مخکی بیده کیدل فرض دی. اوخپلی ښځی ته یی طلاق ورکی اوپه دری سوه روپی یی خرڅه کړه.

سوال: ۲\۷۹۲: حافظ مولا بخش په اردو، فارسی اومسئلو باندی ښه خبردار دی. اکثره دکاروبار په وجه یووخت دوه لمونځونه ورڅخه قضاهم سی، قصداً لمونځ نه قضاء کوی، په مخکنی کس (دملا جمال الدین سره دبیعت کوونکی) اودې کس (مولا بخش) دواړو کسانو کی په چاپسی لمونځ جائزدی؟

جواب: (۱) کم سړی چی دملا جمال مرید دی اوپه لمونځونو کی تاخیر کوی اودماخستن لمانځه څخه مخکی بیده کیدلو ته فرض وایی اونور کارونه دشریعت خلاف کوی، دی جاهل اومبتدع اوفاسق دی، په ده پسی لمونځ کول مکروه دی اودی امام جوړول ناجائز او حرام ([2]) دی. اودوهم سړی څوك چی حافظ دقرآن اودمسائلو څخه خبر دی اودلمانځه پابیند دی. که چیری دغه سړی دفوت سوی لمونځ قضاء راوګرزوی نو په هغه پسی لمونځ بغیر دکراهت څخه درست دی، په مقابله دمخکی سړی کی مولابخش امام جوړول

([1]). وکراهة تقديمه اى الفاسق كراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

([2]). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشى فى شرح المنية ان كراهة تقديمه كراهة تحريم. (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰) ظفير.

پکار (۱) دی. فقط
(۲) اوملا بخش ته لازم دی چی که چیری دڅه وخت لمونځ ځینی اتفاقًا ورڅخه فوت سی نوضرور دی دهغه قضاء راګرزوی ولی چی دیووخت لمونځ هم قصداً بالکل پریښودونکی فاسق (۲) دی، اوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی. فقط
ځوک چي دشرابي په کور کي اوسيږي، دهغه امامت: سوال: (۷۹۳) کم امام چی دشرابی په کورکی اوسیږی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ جواب: جائز (۳) دی. فقط
په نمبر نمبر لمونځ ورکونکي امام ځوک چي دمنځ لمونځ نه کوي: سوال: (۷۹۴) په یوجمات کی څلور وروڼه په نمبر نمبر لمونځ ورکوی، په خپل نمبرباندی لمونځ ورکوی او وروسته لمونځ پریږدی، په هغوی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟
جواب: مکروه (۴) دی. فقط
ځوک چي دانګريزانو په نوم قرآن وايي اوايصال ثواب ورته کوي دهغه امامت: سوال: (۷۹۵) زید دجامع مسجد امام اوواعظ دی، هغه دجارج اودهند دقیصر دپاره قرآن کریم ووایی، او واوروی او وروي بخښی، اوپه خطبه کی یی دعاء ورته وکړه، اوکله چی دسلطان المعظم دپاره ددعاء کولو دپاره ورته وویل سوه نودعلماء فتوٰی طلب کوی. په خلافت والاوو باندی لګیږی اوعوام لمسوی چی دخلافت کمیتی څه دینی خبره نه ده. په داسی امام پسی ځوك چی دډمو په کورکی دعوت خوری، لمونځ کول جائز دی اوکه نه؟
جواب: داسی سړی فاسق دی، دامام جوړولو لائق نه دی، دی دامامت اووعظ ګویی څخه معزول کول اوبندول پکاردی. ترکِ موالاۃ شرعی فرض دی اودخلافت همدردی په مسلمانانو باندی په هرشان لازمه اوواجبه ده. په دی کی کوتاهی کول حرام اومعصیت

(۱). والاحق بالامامة نصبا بل تقديمًا الاعلم باحكام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفير
(۲). اذا التاخير بلاعذر كبيرة لاتزول بالقضاء بل بالتوبة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ص ۷۷۲ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۲۲). ظفير
(۳). صرف دَيوشرابي په کورکی په اوسیدلو سره فسق لازم نه راځی. فقهاء لیکی وجاز تعمير كنيسة وحمل خمر ذمي بنفسه اودابة باجر لاعصرها لقيام المعصية بعينه وجاز اجارة بيت الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع ص ۳۴۵ ج ۵ ، ط.س. ج۶ ص ۳۹۱). ظفير
(۴). لمونځ پریښوونکی فاسق اوعاصی دی وتاركها عمداً مجانة اى تكاسلا فاسق (الدر المختار على هامش رد المحتار كتاب الصلوة ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۵۲) او فقهاوو دفاسق دامامت په سلسله کی صراحت کړی دی ان كراهة تقديمه كراهة تحريم (رد المحتار باب الامامت ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفير

دی. اوکم امام چی دېمو په کورکی دعوت خوری هغه هم دامام جوړولو لائق نه (۱) دی. فقط

دفتوی دخلاف ورزی کونکی امامت: **سوال**: (۷۹۲) دجامع مسجد امام دټولو علماءِ کرامو دفتوٰی څخه خلاف اودټولو مسلمانانو دمرضی څخه خلاف په جامع مسجد کی داسلام دښمنانو خوشحالولو دپاره رڼا وکړه چی په هغه سره دښار دټولو مسلمانانو بدنامی وسوه. (۲) دخطبی څخه مخکی پرمنبر باندی وختی اوسخت فحش ښکنځل یی وکړل. (۳) دټولو لمونځ ګذاروپه مخکی یی په جامع مسجدکی صرف دخپل براءت دپاره حلفیه بیان وکی اوهغه بالکل غلط اودورغ ثابت سو. په داسی امام پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ دهغه معزول اوبل امام مقررول ضروری دی اوکه نه؟

جواب: داسی سړی لائق دامام جوړولو نه دی بلکی دمعزولولو لائق دی. لمونځ ورپسی مکروه دی. نو دده معزولول اوبل امام صالح اوعالم په مسائلو دشریعت مقررول پکار (۲) دی. لیکن چی هغه دخپلو خرابو حرکاتو څخه منع سی، اوتوبه وکاږی نوهغه پر امامت باندی قائم (۳) لرلی سی. فقط

څوک چی دشرک اوبدعت حامی وی، دهغه عبادت: **سوال**: (۷۹۷) کم دښار قاضی چی په خپلی طمعی سره لمونځ ورکوی اوقمیص دزنګنونو څخه پورته اوکوټ استعمالوی او کوڼ وی اوداسلام خلاف دشرك اوبدعت کولو دپاره پخپله وینا کوی، په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: داسی سړی امام جوړول حرام دی اولمونځ په ده پسی مکروهِ تحریمی دی. کذا فی رد المحتار (۴). فقط

دچاچی بازو پرې سوی وی اونا بینا وی دهغه امامت: **سوال**: (۷۹۸) دکم سړی چی یومټ نه وی، او نابیناهم وی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: لمونځ په هغه پسی کیږی لیکن بل امام چی بیناوی اودواړه لاسونه اوپښی دهغه صحیح اوسالمی وی اودلمانځه دمسائلوڅخه خبروی اونیك سړی وی نو(۱) ښه دی. فقط

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

(۳). قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب التوبة والاستغفار ص ۲۰۲). ظفیر

(۴). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر [باقی]

دچا ښځه چې پټ پټ خلکو ته کتل کوي، دهغه امامت: سوال: (۷۹۹) دزید پیش امام ښځه دخپلې استوګنې دکور دځینو څخه پرعامه لاره باندې تیریدونکو ته ګوري اوپه منع کولو باندې امام مذکور وایي چې کمه ښځه ده چې دډول اوباجې په وخت کې دخپلې دروازې څخه کتل نه کوي په داسې امام پسې دټولو لمونځ درست دی اوکه نه؟ یاکمو خلګو چې په خپلو سترګو باندې ذکرسوې واقعه لیدلې ده دهغوی لمونځ به ناجائز یا مکروه وي؟

جواب: په هغه پسې دټولو لمونځ صحیح دی لیکن دغه امام ته په دې کې احتیاط کول پکاردی اوخپله ښځه ددې ناروا کار څخه بندول پکاردي. که چیرې دمنع کولو څخه وروسته هغه یې ونه مني نوګناه پرهغې باندې ده، خاوند یې بری الذمه دی. ([2]) فقط

څوک چې ساړی (یوړول جامه) **اغوندي هغه ته امام جوړیدل څنګه دی؟ سوال**: (۸۰۰) په ساړي اودوه ګنجه خولۍ (ټوپي) اولوړ قمیص اغوستلو سره امامت کول په جومات کې درست دی اوکه نه؟

جواب: که چیرې ستر دعورت پوره وي نولمونځ کیږي لیکن ښه داده چې په پټکې او شرعي لباس سره دې لمونځ ورکوي. ([3]) فقط

که چیرې په جومات کې دامام لاندې منزل خالي وي؟ سوال: (۸۰۱) دجومات لاندې یودوه منزله کور دی اودامام ددریدو ځای ډك نه دی بلکې خالي دی، په دې کې څه حرج سته اوکه نه؟

جواب: که چیرې دامام ځای لاندې خالي وي نوهیڅ حرج نسته. ډك کیدل ددغه ځای ضروري نه دي. فقط

دجذامي امامت؟ سوال: (۸۰۲) جذامي سړی امام جوړول کله چې هغه دشرعي مسائلوڅخه

([1]). ویکره تنزیها امامة عبد الخ واعمٰی (درمختار) قال قید کراهة امامة الاعمٰی فی المحیط وغیره بان لایکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی الخ (ردالمحتار باب والامامة ص۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰، وکذا تکره خلف امرد ومفلوج (درمختار) وکذالك اعرج یقوم ببعض قدمه الخ وکذا اجزم الخ ومن له ید واحدة الخ (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفیر

([2]). ددې وجه ښځو ته غیر محرم ته کتل درست نه دي. اوخاوند دښځې نګران دی، ارشادِ نبوي دی، والرجل راع علی اهل بیته وهو مسئول عن رعیته (مشکوٰة کتاب الامارة ص ۳۳۰). والله اعلم. ظفیر

([3]). والراج ستر عورته الخ وهی للرجل ماتحت سرته الی ماتحت رکبته (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ۳۷۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۴) والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحد متوشحا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المقصر جاز من غیر کراهة مع تیسیر وجود الطاهر الزائد ولکن فیه ترك الاستحباب . (غنیة المستملی ص ۳۳۷). ظفیر

څخه کماحقه خبرتیا لری روادی اوکه نه؟

جواب: لمونځ په هغه پسی صحیح دی که چیری وینه وغیره دهغه جاری نه وی اوهغه دمعذور په حکم کی سوی نه وی لیکن سره ددی دهغه امام جوړول ښه نه دی اوهغه ته جومات ته دراتللو څخه هم احتیاط کول پکاردی. کذا حققه فی کتب الفقه. قال فی الشامی وکذا القصاب والسماك والمجزوم والابرص اولی بالالحاق (ای بالقوم وغیره) وقال سحنون لااری الجمعة علیهما واحتج بالحدیث (۱). فقط

دزناکار دهوکه باز امامت: **سوال**: (۸۰۳) زید دخپل اکا دزوی لور هنده دچا واده چی بل ځای سوی وو تېر ایستله اوخه ورځی یی دځان سره وساتله، بیایی یو سټیمپ (ټاپه) دهندې دخاوند په نوم سره واخستی، اوطلاق نامه یی ولیکله اوپه دهوکی سره یی دهندې دخاوند ګوته ورباندی ولګوله. په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ کله چی نورخلګ دامامت قابل موجود وی؟

جواب: که چیری دزید څه خیانت ثابت سی اوبی وجهی دښځی اوخاوند په مینځ کی دجدایی کوشش یی کړی وی، (۲) نوپه موجوده حالت کی هغه دامام جوړولو لائق نه دی اولمونځ په هغه پسی مکروه دی، یوبل سړی صالح اوعالم امام جوړ (۳) کړی. فقط

دحرام نکاح خوان امامت: **سوال**: (۸۰۴) زید دری ۳ ناجائزی نکاحی دکمو ممانعت چی دقرآن شریف څخه ثابت دی وتړلی، دوې نکاحی دطلاق په عده کی دننه اویوه نکاح دسکه خښینی سره (حالانکی دوهمه خوریی په نکاح کی موجوده وه) وتړله، په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی، اوکه نه؟

جواب: داسی جاهل سړی لائق دامام جوړولو نه دی، دی دامامت څخه معزول کول پکار دی اولمونځ په ده پسی مکروه دی، ولی چی دی فاسق دی. اوامامت دفاسق مکروه دی. کذا فی الشامی ان کراهة تقدیم الفاسق کراهة تحریم (۴). فقط

ددرواغجن اوفریب ورکونکی امامت: **سوال**: (۸۰۵) مولوی عبدالحق په عامه جلسه کی اعلان وکی چی ما دکهوټه (یوه علاقه ده) مکتب ملازمت پریښووی. ددی څخه وروسته

---

(۱). رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فی المسجد ص ۲۱۹، ط.س. ج۱ ص ۲۲۱. ظفیر

(۲). قوله فاسق من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر الخ (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰، اربع من کن فیه کان منافقا خالصا ومن کانت فیه خصلته منهن کانت فیه خصلة من النفاق حتی یدعها اذا اؤتمن خان الحدیث (مشکوٰة باب الکبائر ص ۱۷). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه ای الفاسق) کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰). ظفیر

(۴). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰). ظفیر

یی استعفاء هم ورکړه اوملك لعل خان صاحب مولوی صاحب موصوف دشرعیه امورو مفتي په دیرش ۳۰ روپی دمیاشت مقرر کی. څلور پنځه ورځی وروسته هغه استعفاء بیرته واخسته. نومسلمانانوته دهغه سره څه سلوك کول پکاردی، په هغه پسی دی لمونځ کوی اوکه نه؟

جواب: په دی کی هیڅ شك نسته چی ده دابد وکړل چی مذکوره نوکری یی پریښوول او بیایی هغه اختیار کړه، دداسی سړی په مقتداء جوړولو او امام جوړولو کی دمسلمانانو اودتهولو توهین دی، نودی امام مه جوړوی. فقط

دړوند دامامت تفصیل: **سوال**: (۸۰۶) کمه مسئله چی په شرح وقایه کتاب الصلوة ص ۱۱۲ کی په ړوند پسی دلمانځه دممانعت باره کی لیکلی ده دهغه تشریح پکارده ولی چی په اکثرو جوماتونو کی حافظ دقرآن ړانده امامان دی، په هغوی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی ویکره تنزیهًا امامة عبد واعرابی وفاسق واعمٰی الا ان یکون ای غیر الفاسق اعلم القوم (۱). الخ ددی حاصل دادی چی په ړوند وغیره پسی لمونځ مکروهِ تنزیهی دی یعنی خلاف اولٰی دی اوښه نه دی. لیکن که چیری ړوند دلمانځه دمسائلو څخه خبر وی اومحتاط وی نوبیا هیڅ کراهت نسته. لکه څنګه چی یوصحابی ابن ام مکتوم ﷺ څوك چی نابینا وو، حضور ﷺ هغه پخپله امام مقرر فرمایلی وو. (۲) فقط

چی دوه وخته په یوجومات کی امامت کوی اودری وخته په بل جومات کی: **سوال**: (۸۰۷) کم امام چی دری وخته لمونځ په یوجومات کی ورکوی اودوه وخته په بل جومات کی نو جائزدی اوکه نه؟

جواب: هیڅ وجه دمنع والی په دی کی نسته. فقط

دټوپی (خولی) سره امامت اوپه دی کی بحث: **سوال**: (۸۰۸) یوکتاب (الامامة بالعمامة والصلوٰة بالمروجة) کی یوبزرګ په ډیر زور سره ثابت کړی دی چی په ټوپی سره لمونځ نه صحیح کیږی اوپه صحابه وو ﷺ اوتابعینو اوتبع تابعینو ﷺ کی هیچا دټوپی سره

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰ . ظفیر

(۲). قید کراهة امامة الاعمٰی فی المحیط وغیره بان لایکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی آهـ لکن ورد فی الاعمی نص خاص وهو استخلافه ﷺ لابن ام مکتوم وعتبان ﷺ علی المدینة وکانا اعمیین لانه لم یبق من الرجال من هو اصلح منهما وهذا هو المناسب لاطلاقهم واقتصارهم علی استثناء الاعمی (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰) ظفیر.

لمونځ نه دی کړی. اوحضرت مولانا گنگوهیؒ په فتاوٰی کی لیکلی دی چی که چیری جماعت هم په ټوپی سره وسی نومکروه نه دی. آیا واقعی لمونځ په ټوپی سره کول خلاف دسنتو دی؟

جواب: امامت په پټکی (پګړی) سره افضل اواحسن اومستحب دی لیکن صرف په ټوپی سره دپټکی څخه بغیر مکروه نه دی کما فی شرح المنیة الکبیر: والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحدٍ متوشحًا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسیر وجود الطاهر الزاید ([1]) الخ. ددی عبارت څخه واضحه ده چی دپټکی څخه بغیر صرف په ټوپی سره لمونځ کول اوامامت کول مکروه نه دی که څه هم ښه داده چی په پټکی سره وسی.

بی دطلاق ورکولو څخه څوک چی ښځه پریښی ساتی، دهغه امامت؟ سوال: (۸۰۹) کم سړی چی خپله ښځه بی دطلاق ورکولو څخه پریږدی اودهغې خبر نه اخلی، دهغه څه حکم دی؟ په داسی سړی پسی لمونځ سیی کیږی اوکه نه؟

جواب: خپله ښځه کالمعلقه (دځوړنده په شان) ساتل چی نه طلاق ورکوی اونه یی خبر ګیری کوی حرام اوناجائز دی. قال الله تعالی: فلا تمیلوا کل المیل فتذروها کالمعلقة ، ([2]) الایة. نو داسی سړی عاصی اوظالم دی اوامامت یی مکروه دی، یعنی په ده پسی لمونځ کول مکروه دی. ([3]) فقط

چی حضور ﷺ په غیبو خبر ګڼی دهغه امامت: **سوال**: (۸۱۰) زید جناب سرور کائنات ﷺ په غیبو خبر ګڼی اوپه دی آیت کریمة: ویکون الرسول علیکم شهیداً، اوحدیث شریف: اوتیت علم الاولین والاٰخرین، وغیره سره استدلال کوی، په داسی سړی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟ که چیری دفتنی دبیری څخه یی لمونځ ورپسی وکی نواعاده واجبه ده اوکه نه؟

جواب: په شرح فقه اکبر کی دی: ثم اعلم ان الانبیآء علیهم السلام لم یعلم المغیبات من الاشیاء الا ما اعلمهم الله تعالی احیانًا وذکر الحنفیة تصریحًا بالتکفیر باعتقاد ان النبی علیه السلام یعلم الغیب لمعارضة قوله تعالی: قل لایعلم من فی السمٰوٰت والارض الغیب الا الله، کذافی المسایرة، ص۱۵۸شرح فقه الأکبر. نومعلومه سوه چی دزید عقیده باطله او غلطه ده اواستدلال دهغه صحیح نه دی، اوپه مقابله دنصوص صریحه ، قطعیه کی مسموع نه دی او هغه پسی لمونځ کول نه دی پکار

([1]).غنیة المستملی ص ۲۳۷ ظفیر

([2]). النساء رکوع ۱۹. ظفیر

([3]). ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰) ظفیر.

اوپه دی کی پوره احتیاط کول پکاردی. اوکه چیری په څه وجهی سره یی (ورپسی لمونځ) وکی نودهغه اعاده کول پکار [۱] دی.

څوک چی دلور واده نه کوی اودهغه ناجائزه بچی وی، دهغه امامت: **سوال**: (۸۱۱) زید خپله بالغه لور په کورکی کښی نیولی ده، نکاح نه ورکوی، دهغه دوه بچی په زنا سره پیدا سوی دی، په زید پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیری زید بغیر دعذر څخه داسی کړی وی نوهغه ګنهګار دی. [۲] په هغه پسی لمونځ مکروه [۳] دی.

دکم تول کونکی امامت: **سوال**: (۸۱۲) کم سړی چی کم تول کوی اودروغ وایی اوکله کله لمونځ هم قضاء کوی اوقراءة هم صفا نه وایی، اودسود درخواست هم لیکی، په داسی سړی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: داسی سړی دامام جوړولو لائق نه دی اولمونځ په هغه پسی په حالت مذکوره کی مکروه [۴] دی. نو دمحلی اوجومات خلګو ته پکاردی چی هغه معزوله کړی اویو څوک دامامتی لائق سړی امام [۵] جوړ کړی. فقط

دزانی امام اقتداء: **سوال**: (۸۱۳) دجومات امام په زنا کولو ونیول سو، اوهغه په احکام شرعیه کی داجماع څخه خلاف اجتهادی فتوٰی ورکوی، په هغه پسی لمونځ کول یاپه فتوٰی باندی یی عمل کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: داسی سړی کم چی فاسق دی اوخلاف داجماع اوخلاف دقول دامامِ مجتهد دچا چی هغه مقلد دی مسئله ښیی اوپه غیر مفتٰی بها مسائلو باندی فتوٰی ورکوی لائق دامام جوړولو نه دی. هغه دی امام جوړنه سی اومعزول دی سی [۶]. فقط

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف علی الرسول لا معاندة بل بنوع شبهة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹ – ۵۶۰**). ظفیر

(۲). قال رسول الله ﷺ من ولد له ولد فلیحسن اسمه وادبه فاذا بلغ فیلزوجه الحدیث (مشکوٰة باب الولی ص۲۷۱).

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹ – ۵۶۰**). ظفیر

(۴). وان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**). ظفیر

(۵). نعم اخرج الحاکم فی مستدرکه مرفوعا ان سرکم ان یقبل الله صلوتکم فلیؤمکم خیارکم فانهم وفدکم فیما بینکم وبین ربکم اهـ (رد المحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۶۲**). ظفیر

(۶). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) قوله فاسق معنٰی الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی الخ بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹ – ۵۶۰**). ظفیر

دهندو په مړی کی شریکیدونکی سړی امام جوړول څنګه دی؟ سوال: (٨١۴) کم سړی چی دهندو مړی سره ځی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ (٢) اوچی په منع کولو باندی ذکر سوی سړی جواب ورکړی چی دهندوانو سره دهمیشه راهیسی رواج دی چی هغوی زموږ په مړو کی شریکیږی اوموږ دهغوی (په مړوکی). داشرعًا جائزدی اوکه نه؟

جواب: ([1]) په هغه پسی لمونځ صحیح دی.

(٢) دکافر دناجوړی دپوښتنه کولو په نیت سره دهغوی دمړی سره تلل هم جائز دی، خصوصًا کله چی ددی ضرورت په څه بلی وجهی سره هم وی. فقط

دتیمم والا امامت: **سوال**: (٨١۵) دتیمم والا امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیری یو سړی دیو عذر په وجهی سره په کم کی چی تیمم جائز دی تیمم وکړی نوپه هغه پسی داودس کونکو لمونځ صحیح دی، اوامام جوړیدل هغه ته جائزدی څنګه چی دفقهی په کتابونو کی لیکلی دی. ([2]) چی تیمم طهارت مطلقه کامله دی. فقط

دنرښځی امامت: **سوال**: (٨١٦) که چیری نر ښځی عالم باعمل نهایتی دیندار وی اونور ټول جاهلان وی نو نر ښځی امام جوړ سی اوکه بل څوک؟

جواب: که نرښځی عالم باعمل وی اوباقی ټول جاهلان وی نودهغه امامت جائزدی. کما قالوا فی ولد الزنا والامرد هٰذا (ای الکراهة) اذاوجد غیرهم والا فلا. درمختار ([3]).

قال الله تعالٰی: انما یتقبل الله من المتقین. ([4]) فقط

دیو داسی سړی امامت دچا دښځی په نوم چی دبل چا خط راووزی: **سوال**: (٨١٧) زید او بکردواړه ورونه دی. دزیدواده سوی دی. دواړه ورونه په پریس (چاپ ځای) کی ملازمان دی، درخصتی په وخت کی دواړه دزید دښځی په کورکی اوسی. زید په یوکتاب کی یو خط پروت ولیدی، کم چی دزید دښځی په نوم دی اوپه هغه باندی دبکر دستخط نسته. کله چی زید دخپلی ښځی څخه (په دی باره کی) پوښتنه وکړه نوهغې په قسم سره لاعلمی ښکاره کړه. نوپه دی صورة کی دزید ښځه او ورور شرعًا مجرمان دی اوکه نه؟ اوکه چیری زید امام وی نوپه هغه پسی لمونځ صحیح دی، اوکه نه؟

([1]). وفی کتب الشافعیة ویعزی المسلم بالکافر اعظم الله اجرك وصبرك (ردالمحتار. باب صلوة الجنائز ص ٨۴٣ قبیل مطلب فی زیادة القبور ، ط.س. ج ٢ ص ٢۴٢). ظفیر

([2]). وصح اقتداء متوضئ لا ماء معه بمتیمم (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۵٠ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۵٨٨). ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵٢٣ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۵۵٩ – ۵٦٠). ظفیر

([4]). سورة المائدة رکوع ۵. ظفیر

جواب: په دی صورة کی دزید په ښځی او ورور باندی څه جرم ثابت نه دی اودزید امامت درست دی اوپه هغه پسی لمونځ صحیح دی. فقط

کم امام چی درشتینی شاهدی څخه منعه کوی: **سوال**: (۸۱۸) دجومات یوامام دیوسړی نکاح تړلی ده، وروسته دښځی اوخاوند په خپلوانو کی دعوه (اختلاف) راغله اومقدمه شروع سوه کم وخت چی دشاهد ضرورت سو نوامام صاحب پټ سو اوښځی ته یی ښودنه وکړه چی ته داسی ووایه چی زما نکاح نه ده سوی. دقاضی اوشاهد نه لیدو په وجه هغه سړی مقدمه وبایلله. دی امام دپاره شرعًا څه حکم دی ؟ او په ده پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: داسی سړی چی په قصد سره حق پټوی، فاسق (١) دی، لائق دامام جوړولو نه دی، اولمونځ په هغه پسی مکروه دی، کذا فی الشامی وصرح فیه انه کراهة تقدیمه کراهة تحریم (٢). فقط

دحدیث دمنکرینو امامت: **سوال**: (۸۱۹) کمه فرقه چی دحدیث څخه منکره وی په هغه پسی لمونځ صحیح دی اوکه نه؟

جواب: قادیانی فرقه چی دحدیثو منکره ده هغه کافره ده په هغوی پسی لمونځ درست نه دی. اودغیر مقلدو فرقه څوك چی خپل ځان ته اهلِ حدیث وایی، هغوی هم په حقیقت کی اهلِ حدیث نه دی په هغوی پسی هم لمونځ مکروه دی. امام عالم سنی حنفی مقررول پکار (٣) دی. فقط

(دحدیثو څخه دمنکرینو دډلی امامت هم درست نه دی عالمانو دهغوی دکافر کیدلو فتوىٰ ورکړیده. ظفیر)

په کم امام باندی چی دزنا شبه وی: **سوال**: (۸۲۰) دجومات امام دی هغه دخپلی ښځی دمور سره زنا کړیده حالانکی هغه دځلورو کالو څخه کونډه وه. دهغې حمل وسو. که څه هم شاهدی دزنا ثابته نه ده. لیکن هلته دپردی په وجه بل څوك داخلیدی نسو، دهغه ښځه نابالغه وه. ددوو کالو دهغه په دی بدکار باندی شك دی. داسی سړی دامامت قابل دی اوکه نه؟

---

(١). ومتی اخر شاهد الحسبة شهادته بلاعذر فسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادة ص ۵۱۴ ج١ ، ط.س. ج ۵ ص ۴۲۳). ظفیر

(٢). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ١ ، ط.س. ج١ ص ۵۶۰ . ظفیر

(٣). وحاصله ان کان هوی لایکفر صاحبه تجوز الصلوة خلفه مع الکراهة والا فلا هکذا فی التبیین والخلاصه وهو الصحیح هکذا فی البدائع (عالمگیری کشوری باب الامامة ص ۸۳ ج١ ، ط. م. ج١ ص ۸۴). ظفیر

جواب: کله چی دذکر سوی امام دطرفه داسی شبهه سته نوهغه امام جوړول نه دی پکار. اوهغه ته هم پکاردی چی امام جوړنه سی. لقوله ﷺ من ام قومًا وهم له کارهون (۱). فقط

چاچی په غلطی سره په جنابت کی لمونځ ورکی: **سوال**: (۸۲۱) زید محتلم په خطا سره لمونځ وکی اوپه خپلی خطا باندی پښیمانه دی اوتائب دی، نواوس زید قابل دامامت پاته سو اوکه نه؟

جواب: ددغه لمونځ قضا دی راوګرزوی، اودتوبی څخه وروسته دهغه ګناه معاف سوه، هغه دامامت قابل (۲) دی. فقط (ارشاد نبوی دی: التائب من الذنب کمن لا ذنب له، مشکوٰۃ باب الاستغفار ص ۲۰۲. ظفیر)

په کم امام کی چی دا لاندینی عیبونه وی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۸۲۲ \۱) زید دجومات دچونی اوصفایی دپاره دکسب ګرو ډمو څخه دهغوی دحرامی ګټی څخه چنده واخسته.

(۸۲۳ \۲) زید مذکور دیوڅو پیسو دلالچ دپاره ډمانی ښځی دنذر دتاخ (طاق) ډکولو دپاره دسهار دلمانځه په وخت کی دمحراب ددننه تاخ (طاق) ډکولو دپاره جومات ته دننه پریږدی، اودهغوی په وروسته پسی هم دغه رکم لوښی پښی اوبی طهارته دجومات دمیدان او دلمانځه دصفونو په پایمالولو سره منبرته رسیږی.

(۸۲۴ \۳) زید مذکور ځوان دی اودهغه په خاص کمره کی اکثره مسلمانانی اوزیات تره هندوانی ځوانانی ښځی ددم اوتعویذ دپاره راځی اودنورو نسوانی آرزوګانو څخه علاوه داولاد اوبچی وړی هم وی اوپه هندوانو کی یوه مسئله د (نیوګ) هم ده، یعنی که چیری دیوی ښځی خاوند نامرد وی اوپه اولاد پیدا کولو باندی قادرنه وی نوهغه ښځه دیو بل سړی په ذریعه استقرار دحمل کولی سی.

(۸۲۵ \۴) زید دبل چامنکوحه ښځه دکار اوخدمت په بهانه سره دهغې دخاوند دمنظوری څخه بغیر په خپل کور کی اچولی ده اوهغه خاوند ته تللو ته نه پریږدی، په داسی صورة کی زید دجومات مقررول اوپه هغه پسی لمونځ کول اوپه هغه باندی نکاح تړل جائز دی اوکه نه؟

جواب: دزید قبیح حرکتونه په دی صورة کی داسی درج دی دکمو په وجهی سره چی دزید امامت مکروه تحریمی (۳) دی. پرزید باندی پخپله لازم دی چی کله مقتدیان دهغه

---

(۱). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفیر

(۲). کما یلزم اخبار القوم اذا امهم وهو محدث اوجنب اوفاقد شرط اورکن الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۵۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۱). ظفیر　　　[باقی]

دقبیحو کارونو په وجهی سره دهغه په امامت باندی ناخوښه دی نوهغه دی امام نه جوړیږی. کمافی الدر المختار: ولو ام قوما وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه او لانهم احق بالامامة منه کره له ذلك تحریمًا لحدیث ابی داؤد: ولا یقبل الله صلوٰة من تقدم قومًا وهم له کارهون (۱). الخ. او ظاهره ده چی زید ددی قبیحو کارونو په وجه فاسق دی اوپه فاسق پسی لمونځ مکروه تحریمی دی، اومعزولول دهغه واجب دی څنګه چی په شامی کی دی چی دفاسق امام په جوړولوکی دهغه تعظیم دی اوتعظیم دفاسق حرام دی. واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا الی ان قال فهو کالمبتدع تکره امامته بکل حال بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا قال ولذا لم تجز الصلوٰة خلفه اصلاً عند مالك وروایة عن احمد ؒ (۲) شامی ص۳۷۲ جلد اول. فقط داصفحات په اصل کتاب کی چی حضرت مفتی صاحب کم ځای کم ځای لیکلی دی هغه دشامی مطبوعه مجتبایی ډهلی دی اوپه حاشیه کی دمصری شامی مطبوعه دار الخلافة العثمانیه حوالې درج دی. ظفیر)

<u>څوک چی دنامه لاندی وریښته نه خروی دهغه امامت</u>: سوال: (۸۲۵) که چیری یوسړی دنامه څخه لاندی وریښته دکمزوری دوجهی څخه، نه خروی نوپه هغه پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟ **جواب:** لمونځ دهغه صحیح دی اوهغه پسی لمونځ کیږی. (۴) فقط

<u>دګوډ سړی امامت</u>: سوال: (۸۲۶) ګوډ سړی که چیری عالم وی اوبل سړی دلمانځه دمسائلو څخه خبروی نوپه دی حالت کی ددی ګوډ عالم امامت جائزدی اوکه نه؟ دهدایی صاحب دړوند امامت ته مکروه ویلی دی، سره ددی چی نبی ﷺ عبدالله بن ام مکتوم ؓ امام جوړکړی وو، دخلګو دنفرت په وجه یی ورته مکروه فرمایلی دی.

جواب: داسی ګوډ چی په بعضی قدم (یعنی دپښی په بعضی حصه) باندی دریږی، دهغه امامت یی مکروه تنزیهی لیکلی دی چی که چیری غیر اعرج (نه ګوډ) عالم دلمانځه دمسائلو څخه خبر موجودوی نوهغه اولی دی. په شامی کی دی: وکذا اعرج یقوم ببعض

---

(۳). ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۲). رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر

(۳). که چیری معقول عذر نه وی نوهره جمعه یې صفا کول پکاردی اودځلوېښتو ورځو څخه زیات پریښوول یې مکروه تحریمی دی. ویستحب حلق عانته وتنظیف بدنه بالاغتسال فی کل اسبوع مرة والافضل یوم الجمعة وجاز فی کل خمسة عشر وکره ترکه وراء الاربعین (درمختار) ای تحریما لقول المجتبی ولاعذر فیما وراء الاربعین ویستحق الوعید اهـ (رد المحتار. کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۵۸ ج ۵ ، ط.س. ج۶ ص ۴۰۶). ظفیر

قدمه فالاقتداء بغيره اولی (۱). که چيري بل عالم دلمانځه دمسائلو موجود نه وي اوګوډ عالم موجودوي نوهم هغه ښه دي دامامت دپاره، لکه څنګه چي داعمٰی په باره کي هم فقهاوو همدغه رکم ليکلی دی، شامي: قيد کراهة امامة الاعمٰی فی المحيط وغيره بان لايکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو (۲) اولی. اوهمدغه رکم دقوم نفرت په هغه وخت کي موجب دکراهت دي چي په امام کي څه شرعي عيب يعني فسق وغيره وي. په درمختار کي دي: ولوام قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فيه اولانهم احق بالامامة منه کره له ذلك تحريمًا لحديث ابی داود وان هو احق لا والکراهة عليهم (۳) الخ. فقط

دوفات څخه وروسته داوليااوو دحيات چي څوک قائل نه وي دهغه امامت: **سوال**: (۸۲۷) چي دکم سړي داعقيده وي چي اولياء کرام دوفات څخه وروسته حيات (ژوندي) نه پاته کيږي اودهغوی څخه امداد طلب کونکي مشرکان دي، په دغه سړي پسي لمونځ جائزدي اوکه نه؟

جواب: داولياء الله کرامات اوتصرفات دمرګ څخه وروسته هم ثابت دي، (۴) دي ته شرك ويل هم غلط دي، البته داضرور ده چي ماسوا دالله ﷻ څخه دي دهيچا څخه مدد ونه غوښتل سي لکه څنګه چي په اياك نعبد واياك نستعين (۵) کي مذکور دي. فقط

کم امام چي دجومات مال په خپل ذات باندي خرڅوي دهغه امامت څنګه دي: **سوال**: (۸۲۸) دطاعون په زمانه کي خلګو دجومات امام ته کالي اوکپړي اونقدي (روپۍ) په جومات کي دلګولو دپاره ورکړي ليکن امام هغه په جومات کي ونه لګولی بلکي په خپلو مصارفو کي يې خرڅ کړي، ددی امام دپاره څه حکم دي، دامامت لائق دي اوکه نه؟

جواب: داصريح خيانت دي اوضمان دهغه پرذمه لازم دي. اوکه چيري دغه امام توبه ونه کاږي اوضمان اداء نه کړي نودامام ساتلو لائق نه دي (۶). فقط

ددروغ ويونکي ګهړی (ساعت) جوړونکي امامت: **سوال**: (۸۲۹) يو مولوی صاحب يو حافظ

---

(۱). رد المحتار باب الامامت ص ۵۲۵ ج ۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفير

(۲). ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفير

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفير

(۴). وقيل ببقاء الکرامة بعد الموت لعدم الانعزال عن الولاية بالموت وقيل لا لظاهر نحو اذا مات ابن آدم انقطع عمله ﷺ ويجوز التوسل الی الله تعالی والاستغاثة بالانبياء والصالحين بعد موتهم لان المعجزة والکرامة لا تنقطع بموتهم وعن الرملي ايضاً بعدم انقطاع الکرامة بالموت وعن امام الحرمين ولاينکر الکرامة ولوبعد الموت الا رافضي. (البريقه ج ۱ ص ۲۷۰). ظفير

(۵). سورة الفاتحة . ظفير

(۶). ان کراهة تقديمه ای الفاسق کراهة تحريم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفير

امام دمسجد ته څوك چې گهړی ساز هم دی خپله گهړی ورکړه چې په دی کی نوی پنړ واچوه اویوه روپۍ دهغه قیمت یی هم ورکړی. ذکرسوی حافظ هم هغه پنړ پکښی ولګوی اونوی پنړ یی وانه چوی. په دی وجهی سره گهړی بنده سوه. بیایی بل گهړی ساز ته یوه روپی ورکړه اوپنړ یی باندی واچوی. ددغه حافظ دپاره څه حکم دی، لمونځ وریسی کیږی اوکه نه؟

جواب: په هغه پسی لمونځ مکروه (۱) دی. فقط

بغیر دثبوت څخه چې په کم امام باندی تهمت ولګول سی دهغه امامت: **سوال**: (۸۳۰) ددی ځای دمهتمم صاحب په نوم یوسړی یوخط راولیږی اودجومات پرپیش امام باندی یی دا الزام ولګوی چې ستاسی امام دخپلی مخکی منکوحی دلور سره نکاح کړیده. خط را لیږونکی خپل نوم اوپته په خط کی نه ده لیکلی. ددی خط څخه ماسوا هیڅ ثبوت او شاهد نسته، اومذکوره امام ددی معاملی څخه صفا انکار کوی. نوشرعًا په داسی خط باندی په اعتبار کولو سره په ذکرسوی امام پسی لمونځ کول پکار دی اوکه نه ؟

جواب: دداسی نامعلومه خط اوتحریر هیڅ اعتبار نسته، اوکله چې مذکوره امام دذکر سوی واقعی څخه انکار کوی نومحض ددغه غیر ثابت تحریر په بناء باندی امام صاحب موصوف په ذکرسوی فعل سره متهم کولی نسی اوهغه دامامت څخه معزولوی نسی او دخیرات اومبرات څخه هغه نسی محرومولی: قال الله تعالٰی: یاایها الذین اٰمنوا اجتنبوا کثیراً من الظن ان بعض الظن اثم، الآیة. (۲) فقط

چې څوک دشریعت حکم نه تسلیموی دهغه امامت: **سوال**: (۸۳۱) کم سړی چې مولانا او واعظ وی اوبیا هم خپلی جهګړی دشریعت په قانون سره دفیصله کولو څخه منعه کوی لیکن چې عوام پوښتنه ځینی وکړی، نووایی چې زه په شریعت باندی فیصلی کولو ته تیاریم، اوپر موقع باندی وایی چې که چیری زه شریعت حَکَم (فیصله کوونکی) مقررکړم نوزما نقصان دی. لهٰذا دداسی سړی دایمان اوامامت څه حکم دی او دهغه سره تعلق ساتل اوامداد یی کول څنګه دی؟

جواب: قال الله تعالٰی: فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُوْا فِيْ أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيمًا، (۳) نوکم سړی چې دشریعت په حکم باندی رضامند نه وی

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۲). سورة الحجرات ۲. ظفیر

(۳). سورة النساء. رکوع ۹. ظفیر

اوپه زړه سره هغه نه قبلوی دهغه دنه مومن کیدلو خبر جناب باری تعالٰی ورکړی دی. او بل ځای یی دحکم الٰهی پرنه منونکو باندی دکفر اوفسق حکم فرمایلی دی، نوکم سړی چی دشریعت فیصله نه تسلیموی اودهغه په مقابله کی دعدالت فیصله کمه چی دشریعت څخه خلاف ده ناطقه ګڼی هغه ظالم اوفاسق دی او دهغه دکفر بیره ده، لهٰذا ذکرسوی سړی دامامت اوتولیت لائق نه دی. (۱) اوداسی سړی که چیری تائب نه سی نو دهغه سره ارتباط اواختلاط حرام دی. اوتعلقات پریکول ورسره واجب دی، اومدد کول دیوعاصی اوفاسق دهغه په معصیت اوفسق باندی حرام دی. قال الله تعالٰی: وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ (۲). فقط

<u>پرشریعت باندی رواج ته دترجیح ورکونکی امامت اوتولیت</u>: سوال: (۸۳۲) کم سړی چی دعالم اواهل حدیث کیدلو سره خپلو خویندو ته دپلار دمیراث څخه حصه نه ورکوی اووایی چی موږ درواج پابیند یو، ددی دپاره موږ شرعی حصی نه تقسیموو، بلکی دهغه په اشاری سره دهغه جاهل ورور په عدالت کی بیان ورکړی دی چی چونکی ښځی ناقص العقل دی، ددی په وجه دهغوی دپاره هیڅ حصه اومیراث نسته. لکه څنګه چی الله ﷻ فرمایی: وَلاَ تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ اَمْوَالَكُمْ.

بله داچی دیوعالم په پوښتلو باندی چی که چیری ته په همدی خیال کی مړ سوی نو د نجات څه صورة سته؟ هغه جواب ورکوی چی موږ دی جهنم ته ولاړسو خودا کارنه کوو. داسی سړی امامت اودجومات متولی کیدل یادهغه سره رشته وغیره کول څنګه دی؟

جواب: دښځی حصه دنارینه څخه نیمه په نصِّ قطعی سره ثابته ده. کما قال الله تعالٰی: يُوصِيكُمُ اللهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ، (۳) نو دښځو دحصی څخه انکار کول دنص قطعی څخه انکاردی کم چی کفردی. اودآیت: وَلاَ تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ اَمْوَالَكُمْ، الاٰية (۴) څخه په دی باره کی استدلال کول سخت جهالت دی اوګمراهی ده اودنص قطعی مقابله ده په خپل باطل خیال سره. اودهغه داخبره چی موږ دی جهنم ته ولاړ سو ؔ صریح کفر دی. په شرح فقه اکبر کی دی: ومن قال لمن یامر بالمعروف وینهی عن المنکر ماذا اعرف العلم

(۱). ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر
(۲). سورة المائدة رکوع ۱. ظفیر
(۳). سورة النساء رکوع ۲. ظفیر
(۴). النساء رکوع ۱. ظفیر

او ما ذا اعرف الله انی وضعت نفسی للجحیم اوقال اعددت نفسی للجحیم الخ کفر ای لانه اهان الشریعة اوایس من الرحمة فکلاهما کفر. شرح (۱) فقه اکبر. نو ذکر سوی سړی امام اومتولی جوړول او دهغه سره تعلق ساتل اوخپلوی قائمه ساتل ټول حرام اوناجائز دی. فقط

په ږیره لنډونکی پسی لمونځ: **سوال**: (۸۳۳) دزید ږیره پرې سویده، په مقدار دیو دوو ګوتو باقی ده، پوره څلور ګوتی نه ده، په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په درمختارکی دی چی دڅلورو ګوتو څخه کم دږیری پریکول، حرام دی واما قطعها وهی دونها فلم یبحهه احد (۲) الخ اودغه رکم په درمختار کی دی: ولذا یحرم علی الرجل قطع لحیته (۳). نوپه ذکرسوی سړی پسی لمونځ مکروه دی، که څه هم په حکم د: صلوا خلف کل بر وفاجر، په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی. لیکن داسی سړی امام جوړول نه دی پکار. لان فی امامته تعظیمه وتعظیم الفاسق حرام. شامی (۴). فقط

دمرزایی سره دتعلق ساتونکی امامت: **سوال**: (۸۳۴) که چیری یو څوك مرزایی دجومات په ګنج کی دجومات دامام سره کښیني اوپه لمونځ ګذارو کی نفاق اوټولګۍ جوړیدل پیدا کوی اوامام کم چی دهغه په خبرو باندی عمل کوی، او دلمونځ ګذارو په منع کولو باندی یې هم نه منی، نوداسی امام په جومات کی دساتلو لائق دی اوکه نه؟

جواب: ذکرسوی امام ته دی صفاء وویل سی چی که چیری تا دمرزایی سره تعلق اوربط وساتی اوهغه دی دخپل ځان سره وساتی نوته به دامامتی څخه لیری سی. که چیری هغه بیاهم منع نه سی نوهغه دی دامامت څخه لیری (۵) سی اودغه مرزایی دی دجومات په ګنج کی ونه ساتل سی فوراً دی وایستل (۶) سی. فقط

دکوڼ امامت: **سوال**: (۸۳۵) کم سړی چی کوڼ وی اوبالکل نه اوری دهغه امامت څنګه دی؟

---

(۱). شرح فقه اکبر قبیل فصل فی الکفرة صریحة وکنایة ص ۲۱۵ . ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار. کتاب الصوم. باب مایفسد الصوم مطلب فی الاخذ من اللحیة ص ۱۲۵ ج ۲ ، ط.س. ج ۲ ص ۴۱۸ . ظفیر

(۳). ایضًا کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۵۹ ج۵ ددی څخه مخکی دی : والسنة فیها القبضة ، ط. س. ج ۲ ص ۴۱۷ . ظفیر

(۴). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر

(۵). ځکه چی هغه دَخپلو افعالو په وجهی سره فاسق دی اودفاسق امامت مکروه تحریمی دی. وکراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

(۶). ځکه چی هغه مرتددی اومرتدته پناه بالخصوص په داسی ډول چی مسلمانانوته په هغه سره نقصان ورسیږی درسته نه ده. ظفیر

جواب: دکوڼ امامت درست دی. فقط

په کم امام چې شبهه وسي: **سوال**: (۸۳۶) چې دامام پرافعالو باندی مسلمانانو ته شبهات پیداسی نوداسی امام دی وساتل سی اوکه دی لیری سی؟

چې دچا په وجه بې اتفاقي جوړیږي، دهغه امامت: (۸۳۷ \ ۲) چې دیوامام په وجهی سره په مسلمانانو کی بی اتفاقی اوجګړی جوړیږي، هغه پرامامت باندی ساتل ښه دی اوکه دی لیری سی؟

جواب: (۱) داسی سړی ته امامت کول نه دی پکار، هغه ته لیری کیدل پکاردی اوامامت دهغه مکروه دی. لحدیث من ام قومًا وهم له کارهون. الحدیث ([1])

(۲) دداسی سړی لیری کیدل دامامت ښخه ښه دی. ([2]) فقط

(ځکه چې دامامت منشاء په خپلو کی تعلق داتحاد اواتفاق مضبوطول دی، اودلته هم دغه منشاء ختمیږي. ومن حکمها نظام الالفة وتعلم الجاهل من العالم. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۵ ج۱. ظفیر)

دادنٰی حال مراد: **سوال**: (۸۳۸) امام ترمقتدی ادنٰی حالاً نه دی پکار، که امام ترمقتدی ادنٰی حالاً وی نواقتداء صحیح نه ده. د: (ادنٰی حالاً) ښخه مراد څه شی دی؟

جواب: ددی مطلب دادی چې امام نفل کوی مثلاً، اومقتدی فرض کوی نوپه نفل کونکی پسی دفرض کونکی لمونځ صحیح نه دی. باقی مطلب دانه دی کم چې سائل لیکلی دی بلکی په دی صورتونو کی لمونځ ددواړو صحیح دی، دامام هم اودمقتدی هم. مثلاً امام که چیری عالم نه وی اومقتدی ([3]) عالم وی، یادامام په سرباندی پټکی نسته اودمقتدی په سرباندی پټکی سته نوپه داشان لمونځ دټولو صحیح دی. فقط

دلمانځه پابندی کونکی حافظ امامت څوک چې خپله شامیانه (سایوان او خیمه) **په کرایه باندی ورکوی درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۸۳۶) زید حافظ دی، دپنځه وخته لمونځ پابندی یعنی په هر صورة کی دهغه ځای تراوسیدونکو ښه دی، خوهغه هندوانو او مسلمانانو ته خپله شامیانه په کرایه باندی ورکوی اوپه موقع باندی دهغه دلګولو دپاره هم ځی نوپه هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفیر

([2]). ولوام قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه اولانهم احق بالامامة منه کره الخ (ایضًا ص ۵۲۲ ج ۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹) اوکه نورڅه نه وی نوهمدا خبره کافی ده چې دده په وجهی سره دمسلمانانو په خپل مابینځ کی اختلاف دی، کم چې نهایتی بدشی دی. والله اعلم، ظفیر

([3]). ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقًا (درمختار) ای وان کان غیره من الحاضرین من هو اعلم واقراء منه (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج ۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

جواب: دبعضو ناروا موقعو مثلاً درقص، سرود دمحفلونو دپاره چی شامیانه په کرایه باندی ورکوی اوهلته تلل اولګول یی اعانت علی المعصیت دی، کم چی په موجب دحکم خداوندی ﷻ : وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ (۱) حرام دی. په دی وجه په هغه پسی لمونځ مکروه (۲) دی. که چیری یو بل سړی صالح اولائق دامامت موجودوی نوهغه دی امام جوړسی، کنی هم په هغه پسی دی لمونځ وکړی ولی چی دجلا لمونځ کولو څخه په هغه پسی لمونځ کول ښه دی. (۳) درمختار. فقط

چاته چی دمتیازو شبه وی دهغه امامت: **سوال**: (۸۴۰) زید ته اکثره بغیر احساسه دمتیازو څاڅکی راځی، اوکله راځی هم نه لیکن زید هروخت متشکك وی چی شاید قطره راغلی وی. اوهغه په اوبو سره داستنجاء کولو څخه وروسته په جامی سره ځان وچ کړی بیا په لوټی سره ځان وچ کړی بیا اودس وکړی اوکمربند هم تړی په دی ترکیب سره هغه ته قطره کمه راځی، اوکله چی قطره راسی نوبیایی صرف په لوټی سره صفا کړی، اودس وکړی او لمونځ کوی. دقطری څخه وروسته په اوبو سره صفایی نه کوی. په دی حالت کی دزید لمونځ کیږی اوکه نه؟ اوکه هغه امام هم وی، دهغه امامت صحیح دی اوآئنده به هم صحیح وی، اوکه نه؟

جواب: په دی حالت کی دزید لمونځ کیږی اودهغه امامت هم صحیح دی، اوآئنده هم دهغه په امامت کی هیڅ حرج (۴) نسته. فقط

کم سړی چی حضور ﷺ ته دمشرک اولاد وایی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۸۴۱) یوسړی په ډاګه وایی چی حضور ﷺ دبت پرست یعنی مشرك داولاد څخه دی او دکافر په کور کی پیدا سوی دی. په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په یوحدیث شریف کی دامضمون راغلی دی چی یوسړی دحضور ﷺ څخه دخپل پلار او دهغوی دپلار حال معلوم کی نوهغوی وفرمایل، ان ابی واباك فی النار (۵) یعنی زما او ستا پلار په دوږخ کی دی. اوپه یو روایت کی دا هم مروی دی چی حضور ﷺ

---

(۱). سورة المائدة رکوع ۱. ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۳). وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة (درمختار) افادان الصلوة خلفهما اولی من الانفراد (ردالمحتار، باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفیر

(۴). ثم اعلم ان الجمع بین الماء والحجر افضل ویلیه فی الفضل الاقتصار علی الماء ویلیه الاقتصار علی الحجر وتحصل السنه بالکل وان تفاوت الفضل (ردالمحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۱۳ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۳۳۷). ظفیر

(۵). رد المحتار باب نکاح الکافر مطلب فی الکلام علی ابوی النبی ﷺ ص ۵۳۰ ج۲). ظفیر

وفرمایل چي ما دخپلې والدې دپاره دمغفرت طلب کولو اجازه وغوښته نوالله ﷻ اجازه رانه کړه، اودقبر دزیارت اجازه مې وغوښته نورایې کړه (۱). ظاهر ددې روایاتو همدادې چي دحضور ﷺ والدین دکفر په حالت کې وفات سوي دي. په دې کې عالمانو څه تفصیل اوتحقیق هم فرمایلی دی، اوبحث یې کړیدی، اوبعضې روایتونه یې داسې هم نقل کړي دي دکمو څخه یې چي دهغوی دوالدینو دوباره ژوندي کیدل اوایمان راوړل ثابت کړي دي. بهرحال په دې کې بحث کول عالمانو منع کړي دي، نوسکوت په دې کې ډیر خیر (۲) او دسلامتیا سبب دی. فقط

څوک چي په اجرت اخستلو سره شرعي مسئله ښیي دهغه امامت: **سوال**: (۸۴۲) دجومات یوامام په شرعي مسئلې ښوولو باندې اجرت اخلي، په هغه پسې دلمانځه څه حکم دی؟

جواب: په داسې امام پسې لمونځ مکروه دی اوداسې سړی دامام جوړولو لائق نه دی ترڅو پورې یې چي توبه کښلې نه وي. (۳) فقط

دبدعت خلاف ویونکي امامت: **سوال**: (۸۴۳) زید متبع دسنت اوصالح دی، دیوقوم امام دی اوحافظ دقرآن دی، قوم پریوه موقع پرزید باندې دازور واچوی چي هغه دې قرآن مجید په قبر باندې وګرزوي اودنورو رواجونو مرتکب دی (هم) سي. زید چي تنګ سو نودایې وویل چي چا دقرآن مجید ګرځولو خبره را وایسته دهغه داسې داسې. یعنې ښکنځل یې وکړل. مقتدیانو په هغه پسې لمونځ کول پرېښوول اوخیر خیرات یې باندې بندکې. شرعًا ددې څه حکم دی؟

جواب: داظاهره ده چي دزید غرض په دې ذکر سوي جملې سره دذکر سوي رواج دایجاد کونکې مذمت کول اوهغه ته بدرد ویل دي. اودا رواج په قبرونو باندې دقرآن خواني او په دې باندې اجرت ورکول اواخستل بیشکه ناجائز اودشریعت څخه خلاف دی. لهٰذا زید دذکر سوي رسم په باره کې دمذکوره کلمې ویلو په وجهې سره مرتکب دڅه ګناه یا کفر یافاسق نه سو، ولې چي دشریعت څخه دخلافو رواجونو څخه انکار کول عین دسنت پیروي ده کمه چي موجب داجر اوثواب ده، لهٰذا هغه اوس هم لائق دامامت دی،

(۱). ردالمحتار باب نکاح الکافر مطلب فی الکلام علی ابوی النبی ﷺ ص ۵۳۰ ج۲ . ظفیر

(۲). الا ترٰی ان نبینا ﷺ قداکرمه الله تعالی بحیاة ابویه له حتٰی اٰمنا به الخ (ردالمحتار باب المرتد مطلب فی احیاء ابوی النبی ﷺ ص ۴۰۰ ج ۳ ، ط.س. ج ۴ ص ۲۳۱) دپورته ذکر سوو روایاتو څخه معلومه سوه چي کم سړی ذکرسوې کلمات وایي، دهغه امامت درست دی. خوبیا هم هغه ته سکوت کول ښه دی. په شرح فقه اکبر کې دي: ووالدا رسول الله ﷺ ماتاعلی الکفر (ص ۱۳۰) . ظفیر

(۳). لان اخذ الاجرة علی بیان حکم الشرعی لایحل عندنا وانمایحل علی الکتابة لانها غیر واجبة علیه. والله اعلم (رد المحتار کتاب القاضی مطلب فی حکم الهدیة للمفتی ص ۴۳۲ ج۴ ، ط.س. ج ۵ ص ۳۷۴). ظفیر

مقتدیانوته په هغه پسی دلمونځ کولو څخه احتراز کول نه دی پکار، اودهغه تذلیل او تحقیر کول حرام اوناجائز دی اوددی په وجه سره دامامت څخه دهغه معزوله کول درست نه دی اودهغه حقوق وربندول درست نه دی (۱). فقط

چی څوک وایی چی دحضورﷺ بدن دمعراج په وخت کی دخدای ﷻ دبدن سره پیوست سو: **سوال:** (۸۴۴) یوسړی داوایی چی دمعراج په وخت کی دحضور ﷺ اودخدای ﷻ بدن بالکل یو سو، په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: ددی سړی قول غلط دی اودعقیدی داهل سنت والجماعت اوداهل اسلام دعقیدی څخه خلاف دی، لهٰذا په ده پسی لمونځ مه کوی. (۲) فقط

داولادپه واده کی دډول ړغونکی امامت: **سوال:** (۸۴۵) زید دخپل زوی دنکاح په خوشحالی کی پنځلس شل ورځی مخکی ډول ورږغوی اونور رواجونه هم وسوه، زیدافیون هم خوری په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: زید په دی صورة کی فاسق دی په هغه پسی لمونځ مکروه دی اوهغه دامامت لائق نه دی، ترڅو پوری چی هغه توبه ونه کاږی. (۳) فقط

دتصویر او دبُت جوړونکی امامت: **سوال:** (۸۴۶) دجومات یوامام تصویرونه، بُتان وغیره جوړوی، په هغه پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: په داسی امام پسی لمونځ مکروه (۴) دی. فقط

په لمانځه کی دبیده کیدونکی امامت: **سوال:** (۸۴۷) (یو امام) دخوب مریض دی. په اکثرو وختونوکی بیده وی حتّٰی چی دلمانځه په حالت کی هم بیده اوسی دبل په فتحی سره په هوش کی راسی، اوتعویذ اوڅابنتونه هم کوی، اوقرآن کریم هم سم نه وایی، اودروغ هم وایی. وغیره وغیره. په داسی سړی پسی لمونځ کیدی سی اوکه نه؟ اودی دامامت قابل دی اوکه نه؟

جواب: په لمانځه کی په بیده کیدلو سره لمونځ نه فاسدیږی او په لمانځه کی څه خلل نه

---

(۱). ولوام وهم کارهون الکراهة لفساد فیه الخ کره له ذلك الخ وان هوا حق لا والکراهة علیهم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر ؒ (رد المحتارباب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفیر

(۴). عن عبدالله بن مسعود ؓ قال سمعت رسول الله ﷺ یقول : اشد الناس عذابا عند الله المصورون. متفق علیه، (مشکوٰة باب التصاویر ص ۳۸۵) ، ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة ط.س ج۱ ص۵۵۹). ظفیر

راځي. البته چي په قرآءة کي څه داسي غلطي وکړي چي په هغه سره معنٰی بدله سي، او هغه غلطي لمونځ ماتوونکي وي نولمونځ به يي فاسد سي، خوپه دي کي بيده اوويښ برابردي، هم دغه رکم ثابت تعويذ کول دقرآن په آيتونو سره اومأثوره دعاګانو سره درست دي، په دي کي هم څه ګناه نسته اوپه دي وجهي سره دهغه په امامت کي څه کراهت نسته. اولمونځ په هغه پسي صحيح دي. البته دکذب اودروغ تړلو خصلت موجب دفسق اومعصيت دي، که چيري هغه توبه ونه کاږي نوپه هغه پسي لمونځ مکروه دي، او داسي سړي که چيري توبه ونه کاږي نولائق دامام جوړولو نه (١) دي. فقط

په ناپاکوالي کي امامت: **سوال**: (٨۴٨) که چيري چا دناپاکوالي په حالت کي امامت کړي وي اوهغه ته دلمونځونو اومقتديانو شماريادنه وي نوهغه ته علاوه دخپل لمونځ دقضاء راګرځولو څخه، دمقتديانو دپاره څه تدبير کول پکار دي؟

جواب: که چيري ده ته هيڅ يادنه وي اوتعين دلمونځونو اودمتقديانو نسته نو ظاهره ده چي اطلاع کول ورته ګران دي. ددي وجه څخه پردغه مقتديانو باندي په دي صورة کي څه مؤاخذه نسته اوهغوی ته چونکه دلمونځ دفاسدوالي علم نه دي سوی نوپر هغوی باندي اعاده هم واجب نه ده کما في الشامي: واما صلٰوتهم فانها وان لم تصح ايضًا لکن لا يلزمهم اعادتها لعدم علمهم (٢). نوذکر سوی سړي دي خپل لمونځونه راوګرزوي او ددغه ګناه څخه دي استغفار اوتوبه وکاږي کمه چي دده څخه په ناپاکي کي په لمونځ کولو سره سويده، او دمقتديانو دپاره استغفار کول هم ښه دي. فقط

دشيعه تبرائي امامت: **سوال**: (٨۴٩) يوسړي دشيعه ګانو مذهب لري، اوحديث شريف او فقه نه مني، اوداصحابو کبارو ﷺ توهين کوي، ترښکنځلو پوري ورته کوي، اودشيعه ګانو په مجلسونو کي مرثيه خواني کوي. په داسي سړي پسي په تروايحو اوپنځه وخته لمونځونو کي اقتداء کول جائزدي اوکه نه؟ بلکي داسړي درمضان شريف څخه هفته لس ورځي مخکي توبه وکاږي، اودرمضان څخه وروسته بيا ذکرسوی کارونه کول شروع کړي.

---

(١). وان کراهة تقديمه اي الفاسق کراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج ١، ط. س. ج١ ص ٥٥٩). ظفير

(٢). رد المحتار، واذا ظهر حدث امامه وکذا کل مفسد في رأي مقتد بطلت فيلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا کما يلزم الامام اخبار القوم اذا أمهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او رکن (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج ١ ص ٥٥٣، ط.س. ج١ ص ٥٩١) صلی جماعة ﷺ مع امام ﷺ فمن تيقن مخالفة امامه في الجهة ﷺ لم تجز صلاته ﷺ ومن لم يعلم ذلك فصلاته صحيحة (ايضاً باب صفة الصلوة ج ١ ص ۴٠٧، ط. س. ج١ ص ۴٣٢). ظفير

جواب: دداسی سړی اقتداء دی په تراویحو اوفرائضو کی ونه سی. لیکن کم وخت چی هغه توبه وکاږی هغه وخت دهغه اقتداء درسته کیږی. اوکه چیری دتجربې اوبار بار دهغه په دی حرکت سره داښکاره سی چی دده عقیده هم هغه ده څه چی دی درمضان شریف څخه وروسته کوی نودی دي هیڅ کله امام جوړنه سی ترڅو پوری چی دده درشتینی توبی یقین ونه سی. (۱)

دغیر الله دسجدی دقائل امامت: **سوال**: (۸۵۰) دزید داعقیده ده چی سجده ماسوا دالله ﷻ څخه برابره خبره ده که قبرونه وی یابل څه، حرامه ده، شرك نه ده. که چیری دمعبود په ګڼلو سره وکړی نوشرك به وی. اوکه چیری مطلقًا شرك وای نوحضرت آدمؑ اوحضرت یوسفؑ ته به سجده نه وای سوی. آیاپه دی باره کی شرك وسو اوکه نه؟ دکم سړی چی داعقیده وی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په درمختار اوشامی کی منقول دی چی غیر الله ته تعظیمًا اوعبادةً سجده کول حرام دی اوکفردی. نومعلومه سوه چی تعظیمًا سجده کول هم په عبادت کی داخل دی، اوسجده تعظیمی عین سجده دعبادت ده کمه چی بالاتفاق کفر دی. البته په سجده تحیه کی کمه چی دسلام پرځای وی، په دی کی اختلاف دی چی کفردی اوکه نه دی؟ لیکن په حرمت اوګناه کبیره کیدلوکی په دی کی هم اختلاف نسته. اوسجده دحضرت آدم ؑ او حضرت یوسف ؑ په دی شریعت کی منسوخ سویده. نوپه زید مذکور پسی لمونځ صحیح نه دی. په درمختار کی دی: وهل یکفر ان علٰی وجه العبادة والتعظیم کفر وان علٰی وجه التحیة لا وصار اٰثمًا مرتکبًا للکبیرة. انتهٰی (۲) ملخصًا، وفی الشامی ذکر الصدر الشهید انه لایکفر بهٰذا السجود لانه یرید به التحیة وقال شمس الائمة السرخسی ان کان لغیر الله تعالٰی علی وجه التعظیم کفر قال القهستانی وفی الظهیریة یکفر بالسجدة مطلقًا. شامی (۳) جلد۵. بیا ددی څخه وروسته شامی داتحقیق فرمایلی دی چی حضرت آدم ؑ ته چی کمه سجده ملائکو کړی وه، هغه منسوخه سوه. په دی حدیث

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول (در مختار) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لا یتهم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعا ؒ بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰) قال المرغینانی الخ لا تجوز الصلوة خلف الرافضی (عالمګیری کشوری باب الامامة ص ۸۳ ج ۱ ، ط. م. ج۱ ص ۸۴). ظفیر

(۲). الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء ص ۳۳۷ – ۳۳۸ ج ۵ ، ط.س. ج ۲ ص ۳۸۳. ظفیر

(۳). ردالمحتار باب ایضًا ص ۳۳۸ ج ۵ ، ط.س. ج ۲ ص ۳۸۳. ظفیر

سره: (۱) لو امرتُ احداً ان یسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها (۲). ﷺ بیا یی لیکلی دی: وکان جائزًا فیما مضی کما فی قصة یوسف علیه السلام قال ابو منصور الماتریدی رحمه الله وفیه دلیل علی نسخ الکتاب بالسنة الخ. شامی (۳). نو په دی عبارت سره ټول شبهات رفع سول. فقط

دکم ماشوم چی دډمی کره پرورش سوی وی دهغه امامت: **سوال**: (۸۵۱) دیو هلك مور او پلار په ماشوم والی کی مړه سول هغه دډمی کره پرورش پیدا کی قرآن کریم یی هم ووایه، هغه امامت کولی سی اوکه نه؟

جواب: هغه هلك چاچی دډمی په کورکی پرورش پیدا کړیدی، که چیری هغه قرآن کریم ویلی وی اودلمانځه دمسائلو څخه خبر وی نودهغه امامت بغیر کراهته (۴) درست دی.

دچا ښځه چی سود خوره وی دهغه امامت: **سوال**: (۸۵۲) چی دچا ښځه سود خوره وی او هغه ته علم وی نوهغه امام کیدی سی اوکه نه؟

جواب: که چیری خاوند هغه (خپله ښځه) ددی کار څخه منع کوی نودخاوند په امامت کی څه کراهت نسته (۵).

کم موچی چی په کوچنی والی کی مسلمان سی، دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۸۵۳) یوهلك دذات څخه موچی وو اوعمر یی پاؤ بالا یوکال وو، یوسید هغه واخستی اودمسلمانی په طریقه یی دهغه پرورش وکی. اوس هغه هلك بالغ دی اوداسلام په طریقه باندی قائم اومستحکم دی، په هغه پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی امامت کولی سی لمونځ په هغه پسی صحیح (۶) دی. فقط

څوک چی مقتدیانو ته منافقان وایی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۸۵۴) کم پیش امام چی مسلمانانو ته عمومًا اوخپلو مقتدیانو ته منافقان وایی اوداهم وایی چی نن صبا دټولو لمونځ ګذارو زړونه په وجه دمنافق کیدلو کاڼه سوی دی، ددی وجه دصف سیده کولو ضرورت نسته، ددغه امام دپاره څه حکم دی؟

---

(۱). اختلفوا فی سجدة الملائکة قیل کان لله تعالی والتوجه الی آدم للتشریف کاستقبال الکعبة وقیل بل لادم علی وجه التحیة والاکرام ثم نسخ بقوله ﷺ لو امرت احدا ان یسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها (رد المحتار کتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء ص ۳۳۸ ج ۵ ، ط.س. ج ۶ ص ۳۸۳ – ۳۸۴). ظفیر

(۲). رد المحتار کتاب الحظر والاباحة والاستبراء وغیره ص ۳۳۸ ج ۵. ظفیر

(۳). ایضًا ، ط.س. ج ۶ ص ۳۸۳ – ۳۸۴ . ظفیر

(۴). ځکه چی په ده کی بیا هیڅ عیب نسته. ظفیر

(۵). قال الله تعالی ولاتزر وازرة وزر اخرٰی ، (القرآن) . ظفیر

(۶). قال الله تعالی: انّ اکرمکم عند الله اتقکم (الحجرات). ظفیر

جواب: دا ددغه امام لوی جهالت دی اودی سخت عاصی دی. داسی امام معزولول پکار دی، په ده پسی لمونځ مکروه (۱) دی.

چې دماخستن جمع يو ورکړی او تراويح بل، نودا جائز دی، اوکه نه؟ سوال: (۸۵۵) زيد ماخستن دفرضو جمع ورکړی اوعمر په تراويحوکی مخ ته سو او وترېی هم ورکړل نودا جائز دی اوکه نه؟

جواب: داصورة جائزدی دتراويحو جمع ورکونکی دوترو امامت هم کولی سی کله چی هغه بالغ وی، ولی چی په نابالغ پسی نه تراويح صحيح دی اونه وتر درست دی (۲).

دانتقال په تکبيراتو کی جهر واجب دی اوکه سنت؟ سوال: (۸۵۶) دانتقال تکبيرونه په جهر سره ويل امام ته واجب دی اوکه سنت دی. که چيری امام يو، نيم تکبير سهواً په جهر سره ووايی نوآيا سجده سهوه به لازميږی؟

جواب: سنت دی، ددی په ترك سره سجده سهوه نه (۳) واجبيږی. فقط

دجومات په بی ادبی کونکی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۸۵۷) يوسړی دجومات امام دی په هغه باندی دخيانت وغيره الزام دی، اويوسړی ذکرسوی امام ته وويل چی ته دجومات دصفايی وغيره خيال ساته. نوامام وويل چی زه خوبه دلته متيازی کوم. لهٰذا په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: داسی سړی لائق دامام جوړولو نه دی، دی معزولول پکار دی اوبل امام عالم او صالح دی مقرر سی په ځاکی چی اوصاف دامامت موجودوی. دذکرسوی امام داخبره چی زه خوبه دلته متيازی کوم، دکفر خبره ده ولی چی په دی کی دجومات توهين (۴) دی لهٰذا که چيری ددی څخه يی توبه ونه کښله، نوپه هغه پسی لمونځ جائزنه (۵) دی. اوباقی کارونه کم چی دخيانت سره تعلق لري په هغه سره هغه فاسق سو په دی وجهی سره دهغه امامت مکروه دی. بهر حال دذکر سوی امام معزوله کول واجب دی اوپه ذکر سوی حالت

---

(۱). ويکره تقديم العبد الخ وفاسق (هدايه باب الامامة ص ۱۱۰ ج۱). ظفير

(۲). ولايصح اقتداء رجل بامرأة وخنثى وصبى مطلقا ولوفى جنازة ونفل على الاصح (در مختار) والمختار انه لا يجوز فى الصلوة كلها (رد المحتار باب الامامة ص ۵۳۹ وص ۵۴۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲ – ۵۷۷). ظفير

(۳). وسننها ، ترك السنة لا يوجب فسادا ولا سهوا بل اساءة لو عامدا ﴿ رفع اليدين للتحريمة ﴿ وجهر الامام بالتكبير بقدر حاجة للاعلام بالدخول و الانتقال وكذا بالتسميع والسلام (الدر المختار على هامش رد المحتار باب صفة الصلوة مطلب فى سنن الصلاة ص ۴۴۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۴ – ۴۷۵). ظفير

(۴). وفى تتمة الفتاوىٰ من استخف بالقرآن اوبالمسجد اوبنحوه ممايعظم فى الشرع كفر (شرح فقه اكبر ص ۲۰۵).

(۵). ځکه چی څوك حكمًا كافر سو دهغه امامت به جائز نه وی. وقيده الخ بان لاتكون بدعته تكفره فان كانت تكفره فالصلاة خلفه لا تجوز (البحر الرائق باب الامامة ص ۳۷۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۳۴۹). ظفير

کی هغه مؤذن ساتل هم درست نه دی. (١) فقط

دزانی توبه کونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال: (٨٥٨) یوسړی دډیری مودی راهیسی دجومات امام دی هغه دخپلی ورینداری سره ناجائز تعلق وساتی اوهغه یې دځان سره کړه، بل ځای ته ولاړی. ښځه خپل خاوند راوسته اوذکر سوی امام هم راغی. اوس دهغه دامامت په باره کی څه حکم دی؟

جواب: دغه سړی که چیری تائب سی اودمخکنیو خرابو کارونو څخه توبه وکاږی اواکثره لمونځ ګذار دهغه په امامت باندی راضی وی نوهغه امام جوړول درست دی اودهغه په امامت کی څه کراهت (٢) نسته. فقط

آیا دزوړ سړی امامت مکروه دی؟ سوال: (٨٥٩) یوسړی دڅلویښتو کالو څخه امامت کوی لیکن اوس ددرو څلورو کالو څخه دهغه په نظرکی څه فرق راغلی دی لیکن پاکی اونا پاکی پخپله لیدی سی. خلګ اعتراض کوی چی په داسی سړی پسی لمونځ مکروه کیږی، داصحیح ده اوکه نه؟

جواب: په ذکرسوی صورة کی په امام مذکور پسی لمونځ مکروه نه دی، بغیر دکراهته لمونځ پسی صحیح دی. فقط

دحنفی لمونځ په شافعی پسی جائزدی اوکه نه؟ (٣) **سوال:** (٨٦٠) دحنفی لمونځ په شافعی المذهب والا پسی صحیح دی اوکه نه؟ اوکه چیری شافعی المذهب دحنفی رعایت په نجاست او اودس وغیره کی نه کوی، نوبیا څه حکم دی؟

جواب: دحنفی لمونځ په شافعی المذهب والاپسی صحیح دی لیکن دغه امام ته پکاردی چی دنجاست اواودس وغیره په باره کی دی دحنفی رعایت کوی اوکه چیری هغه داسی نه کوی نوحنفی ته په هغه پسی لمونځ کول نه دی پکار. اوکه چیری یقیناً دامعلومه سی چی ددغه امام څخه یو کار داودس وغیره ماتونکی دحنفی په اعتقادکی صادر سوی (٤)

---

(١). ان کراهة تقدیمه (ای الفاسق) کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج١). ظفیر

(٢). قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب التوبه والاستغفار ص٢٠٧) ظفیر.

(٣). دهمدې مسئلې دزیات تحقیق دپاره دی علمآء کرام دهمدې حصې په پای کی درج سوی رساله وګوری، کمه چی دعلامه رحمت الله السندی رحمه الله تصنیف دی، اوتر نن ورځی پوری دا رساله مخطوطه وه، موږ ته یې دمصر دجامعه ازهر دکتب خانې څخه یوه نسخه په لاس راغله او الحمد لله چی دپوره تحقیق او تعلیق سره دالله جل جلاله په فضل دعلمآء او محققینو دپاره په لومړی ځل په ښکلی کتابت باندی داده دفتاوی دار العلوم دیوبند سره یو ځای دچاپ کولو سعادت رانصیب سو، اوانشاء الله کوشش به وکړو که وخت اواسباب برابرسوه چی مخ ته نورهم داسی مفید اوګټور دخپلواسلافو علمآء کرامو رحمهم الله څخه راپاته میراث دتحقیق مینانوته وړاندی کړو. حقانی

(٤). وکذا تکره خلف امرد الخ ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان یتقن المراعاة لم یکره اوعدمها لم =

دی، نو بیا په هغه پسی دحنفی لمونځ نه صحیح کیږی. فقط

دکانه، شل اوچُغل خور امامت جائز دی اوکه نه دی؟ سوال: (۸۲۱) کوڼ، ړوند، چغل خور، پیس، شل اودچا زنانه چی پرده نه کوی په هغوی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اوپه دروغ ویونکی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په یوې سترگی والا پسی لمونځ مکروه نه دی اوړوند که چیری دپلیتیۍ څخه ځان نه ساتی اوغیر محتاط وی اواعلم دقوم نه وی نوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی. اوکه چیری هغه اعلم اوافضل وی نومکروه نه دی. اوپه جذامی اوشل اوچغل خورپسی لمونځ مکروه دی. اودچا زنانه چی پرده نه کوی اوهغه یی نه منع کوی اودهغوی په بی پرده گی باندی راضی وی نوپه هغه پسی هم لمونځ مکروه دی، اوکه چیری هغه خپل کوروالا دبی پردی گرځیدلو څخه منع کوی اودا (بی پرده گی) بده گنهی نوپه هغه پسی لمونځ بی کراهته صحیح دی اوپه دروغ ویونکی پسی هم لمونځ مکروه (۱) دی. فقط

دزانی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۸۲۲) یوسړی دخپل سکه زوی دښځی سره زنا کوی، او دزوی ښځی ته په رضامندی سره دنورو سړو سره دزنا کاری اجازه ورکوی، په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اودخپلی بالغی لور مخ مچول څنگه دی؟

جواب: که چیری هغه توبه ونه کاږی نوپه هغه پسی لمونځ مکروه (۲) دی.

اوخپله لور مچول دمحبت اورحمت دلاری څخه درست دی او دشهوت دلاری څخه حرام دی اوموجب دحرمتِ مصاهرت دی اوځان ساتل ددی څخه په مخکنی صورة کی هم، داحتیاط غوښتنه (۳) دی. فقط

= یصحها وان شك كره (الدر المختار) وبحث المحشي انه علم ان راعى فى الفروض والواجبات والسنن فلا كراهة وان علم تركها فى الثلاثة لم يصح وان لم يدر شيئًا كره الخ (ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ - ۵۲۳). ظفير

(۱). ويكره امامة عبد ؒ وفاسق واعمى ونحو الاعشى الا ان يكون غير الفاسق اعلم القوم فهو اولى ؒ وكذا تكره خلف امرد وسفيه ومفلوج وابرص شاع برصه وشارب الخمر واكل الربوا ونمام (درمختار) قوله فاسق من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولو كان المراد من يرتكب الكبائر قوله غير الفاسق تبع فى ذلك صاحب البحر حيث قيد كراهة امامة الاعمى فى المحيط وغيره بان لا يكون افضل القوم فان كان افضلهم فهو اولى اهـ قوله ومفلوج ؒ وكذلك اعرج يقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغيره اولى وكذا اجذم (ردالمحتار باب الامامة ص۵۲۳ ج۱ وص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفير

(۲). وان كراهة تقديمه اى الفاسق كراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

(۳). وما حل نظره مما مرّ من ذكر او انثى حل لمسه اذا امن من الشهوة على نفسه وعليها لانه عليه السلام كان يقبل رأس فاطمة ؓ وان لم يامن ذلك اوشك فلا يحل له النظر والمس (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة فصل فى النظر والمس ص ۳۲۳ ج ۵ ، ط.س. ج ۲ ص ۳۷۲). ظفير

دغلطي عقيدي لرونکي امامت څنګه دی؟ سوال: (۸۲۳) په بعضو ځایونو کی کی رواج دی چی کله دیوسړی واده دریم وی او ددوستی خبره کیږی نو دانجلۍ مور او پلار وایی چی اول دی دناوکۍ (مصنوعی) سره واده وسی اودغه (مصنوعی) ناوکۍ دی دروازی ته مخامخ ترچوکاټ لاندی ښخه سی. دا رواج ددی دپاره کوی چی دریمه نکاح ډیره سپیره ګڼی، که چیری داسی ونه کړی نوانجلۍ به مړه سی. داعقیده څنګه ده اودکم امام چی داعقیده وی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: داکار صحیح نه دی. اوداسی عقیده لرل جائزنه دی، اودکم امام چی داسی عقیده وی هغه امام جوړول نه دی پکار، په هغه پسی لمونځ مکروه ([1]) دی. فقط

دناسنته حافظ امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۸۲۴) دیو حافظ قرآن عمر تقریبًا (۲۵) کاله دی، سنت یی نه دی سوی. خلګ دهغه پرامامت اعتراض کوی آیا هغه ته ختنه (یعنی سنت) کول جائز دی، اوامامت یی درست دی اوکه نه؟

دشین اونارنجی پټکی ترونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۸۲۵) امامانو ته شین یا نارنجی پټکی تړل جائز دی اوکه نه؟

جواب: (۱) هغه ته ځان سنتول ضروری دی ځکه چی داد ([2]) اسلام شعائر دی. اوامامت دهغه درست دی.

(۲) دشین اونارنجی رنګ شرعًا منع والی نسته. لهٰذا په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی، البته دنارنجی رنګ پټکی ښه نه ([3]) دی. فقط

څوک چی مقرر امام په زور لیری کړی او پخپله دامامتی دعوٰی وکړی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۸۲٦) یو مولوی صاحب به دشلو کالو څخه دقرآن کریم اوریدلو دپاره راتلی، ددرو کالو څخه یی بالکل راتلل بندکړی وه ګواکی لادرکه وو. موږ خلګو درمضان شریف څخه شپږ میاشتی مخکی یو مولوی صاحب مقرر ساتلی وو. درمضان په شروع کی مخکنی مولوی صاحب راغی اودوهم مولوی صاحب یی دمصلی څخه لیری

([1]). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة (درمختار) ای محرمة (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۲۰). ظفیر

([2]). وقیل فی ختان الکبیر اذا امکنه ان یختن نفسه فعل والا لم یفعل والا لا یمکنه النکاح او شراء الجاریة والظاهر فی الکبیر انه یختن ویکفی قطع الاکثر الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء ص ۳۳۷ ج۵ ، ط.س. ج۲ ص ۳۸۲). ظفیر

([3]). وکره لبس المعصفر والمزعفر الاحمر والاصفرللرجال مفاده انه لایکره لنساء ولاباس بسائر الالوان (درمختار) ففی جامع الفتاوٰی قال ابوحنیفة والشافعی ومالك یجوز لبس المعصفر وقال جماعة من العلماء مکروه بکراهة التنزیهیة (رد المحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی اللبس ص ۳۱۴ ج ۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۸). ظفیر

کی اوهغه یی ووهی اودهغه حق یی پخپله واخستی، هغه ته یی هیڅ ورنه کړل، په دی باره کی شرعی فیصله څه ده؟

جواب: کم مولوی صاحب چی ددری کالو څخه راغلی نه وو اوبل صاحب مقرر سوی وو، هغه ته داجائزنه وه چی نوی امام کم چی لمونځ گذارو اودمحلی خلگو مقرر کړی وو دامامت څخه منع کړی اودمصلی څخه یی لیری کړی، داکار دهغه حرام اوناجائز وو او وهل یی صریح ظلم دی، (په دی سره) هغه فاسق سو اودهغه هیڅ حق په هغه کی نسته څه چی ددوهم امام دپاره جمع سوی وه. دا ددغه مخکنی امام صریح ظلم دی چی داخپل حق گڼی [1]. فقط

دواحد شخص اذان اوامامت کول څنگه دي؟ سوال: (۷۲۷) شخص واحد ته اذان اواقامت علی الدوام کول مشروع دی اوکه مکروه؟

جواب: دی ته فقهاوو افضل ویلی دی لکه چی په درمختار کی دی: الافضل کون الامام هو المؤذن [2] الخ. فقط

کم امام چی دوژلو اخطار ورکوی دهغه امامت څنگه دي؟ سوال: (۸۲۸) دیوجومات امام داوایی چی که څوك دی جومات ته دلمونځ کولو دپاره راغی نوهغه به ووژنم. نودداسی سړی امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: داسی امام فاسق دی، دی معزول کول پکاردی. لمونځ په ده پسی مکروه [3] دی فقط.

دچاچي یوه گوته پرې سوی وی دهغه امامت څنگه دي؟ سوال: (۸۲۹) دلته یوطالب علم، دعلم څخه ښه خبردار دی اودهغه یوه گوته دراسته لاس نسته. اوخلگ هم دهغه څخه خوشحاله دی، نودهغه امامت درست دی اوکه نه؟

جواب: درست [4] دی. فقط

دظالم دپاره ددعاء خیر کونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۸۷۰) کم هندو چی په خپل رعیت باندی ظلم اوستم کوی. که چیری هغه ناجوړی سی، اویو مسلمان په دنیاوی

---

[1]. والخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم الخ وامام الراتب اولی (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۸ – ۵۵۹). ظفیر

[2]. الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الاذان ص ۳۷۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۱ . ظفیر

[3]. ان کراهة تقدیمه (ای الفاسق) کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامت ص۵۲۳ ج۱ ط.س. ج۱ ص۵۲۰) ظفیر.

[4]. دگوتی نیستوالی شرعاً څه داسی عیبب نه دی چی دهغه په وجهی سره په امامت کی څه کراهت یافساد پیدا سی. ظفیر

طمعی سره دهغه دپاره دعاءِ خیر اوختم جلالی اوکړی اودشفاء دعاء وکړی نودهغه دپاره څه حکم دی، لمونځ په هغه پسی جائزدی اوکه نه؟

جواب: دظالم دپاره دعاءِ خیر جائزه نه ده. اوظالم مدد کول په ظلم باندی حرام اوګناه کبیره ده. وعن اوس بن شرحبیل انه سمع رسول الله ﷺ یقول من مشی مع ظالم لیقویه وهو یعلم انه ظالم فقد خرج من الاسلام رواه البیهقی (۱). نو کم سړی چی په قصد او ارادی سره دظالم دپاره دعاءِ خیر کوی اوپه دغه ظلم کی دهغه مدد کوی نوهغه فاسق دی، په هغه پسی لمونځ مکروه دی (۲). اِلاَّ اَنْ یَّتُوْبَ. فقط

دمعذور امامت دغیر معذور دپاره درست نه دی: **سوال**: (۸۷۱) دیومسجد امام ته دبواسیرو مرض دی هروخت بدبویه اوبه ورڅخه جاری اوسی، مقتدیان یی تندرست دی، بعضی قرآن شریف صحیح وایی او دلمانځه دمسائلو څخه بنه خبر دی. په داسی معذور امام پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: مذکور امام شرعًا معذور دی اوپه درمختار وغیره دفقهی کتابونو کی تصریح ده چی په معذور پسی دغیر معذور لمونځ نه صحیح کیږی، لهٰذا دی امام مه (۳) جوړوی، په روغو (خلګو) کی چی کم سړی دلمانځه دمسائلو څخه خبر وی، اوقرآن کریم صحیح وایی هغه امام جوړکړی. فقط

کم امام چی دجذامی بنځ سوی لاس راوباسی او دسوزلو حکم یی ورکی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۸۷۲) په ریاست کی دیوقاضی په فتوٰی ورکولو سره دیو جذامی مسلمان مړه دجوسه (بدن) دبنځولوڅخه دوی میاشتی وروسته وسوزل سوه. ددی متعلق څه حکم دی اوکم قاضی چی دجواز فتوٰی ورکړیده او ددرمختار او عالمګیری وغیره حواله ورکوی دهغه دپاره څه حکم دی؟ په هغه پسی لمونځ کول پکار دی، اوکه دهغه سره دی بائیکاټ (خوابدتیا) وسی؟ فقط

جواب: دمسلمان مړه جوسه سوزل جائزنه دی بالکل حرام دی.

کم قاضی چی دمسلمان جذامی دجوسی سوزلو حکم کړی دی هغه جاهل اوفاسق دی په هیڅ کتاب کی یی دسوزلو حکم نه دی لیکلی، داهغه غلطه حواله ورکړیده، ذکرسوی سړی چونکی بدعتی هم دی اوفاسق هم دی، ددی دپاره په هغه پسی لمونځ مکروه دی

(۱). مشکوٰة باب الظلم فصل ثالث ص ۴۳۲ . ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) وان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

(۳). ولا یصلی الطاهر خلف من هو فی معنی المستحاضة (هدایه باب الامامة ص ۱۱۳ ج۱). ظفیر

اودی امام جوړول حرام دی ولی چی په امام جوړولو کی دهغه تعظیم دی اودبدعتی اوفاسق تعظیم حرام دی. په حدیث شریف کی دی چی: من وقر صاحب بدعةٍ فقد اعان علٰی هدم الاسلام (۱). یعنی چاچی دبدعتی تعظیم وکی اوعزت یی وکی نوهغه داسلام په نړولو کی مدد وکی، والعیاذ بالله تعالٰی. نو ذکرسوی قاضی ته توبه کښل پکاردی، اوکه چیری هغه توبه ونه کاږی نودهغه سره سلام اوکلام پرینښوول پکاردی، داسی سړی دقاضی اومقتداء جوړولو لائق نه دی. فقط

غل امام جوړول څنګه دی؟ سوال: (۸۷۳) پیش امام دجومات دری پټی (غلا) کړی او دسزا تیرولو څخه وروسته راغی. په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: دداسی فاسق سړی امام جوړول مکروه دی په هغه پسی لمونځ مکروه تحریمی دی. لهٰذا دی معزولول اوبل امام عالم اوقاری اوصالح مقررول پکاردی. (۲) فقط

څوک چی پرجماع باندی قدرت نه لری دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۸۷۴) مخنث امام کیدی نه سی لیکن که چیری یوسړی په وجه دحدوث دامراضو دجماع ناقابل سی نوامام کیدی سی اوکه نه؟ حال داچی په جماعت کی همداسړی دفضل او کمال خاوند دی.

جواب: دعنین یعنی نامرد امامت صحیح دی، دعنین حکم دخنثٰی غوندی نه دی لهٰذا دذکرسوی معذور امامت صحیح (۳) دی. فقط

څوک چی سپین وریښته شکوی دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۸۷۵) زید دجومات امام دخپلی ږیری سپین وریښته شکوی، په هغه پسی دلمونځ څه حکم دی؟

جواب: دافعل ښه نه دی، مکروه (۴) دی، اولمونځ په هغه پسی صحیح دی، خوداسی کول نه دی پکار. فقط

---

(۱). مشکوٰة کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة فصل ثالث ص ۳۱.

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (رد المحتارباب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰) اخرج الحاکم فی مستدرکه ان سرکم ان یقبل الله صلاتکم فلیؤکم خیارکم فانهم وفدکم فیما بینکم وبینه ربکم اهـ (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱) ظفیر،

(۳). دخنثٰی امامت خو ددی وجه درست نه دی چی دهغه دښځی والی احتمال وی، والخنثٰی البالغ تصح امامته للانثٰی مطلقًا فقط لا لرجل ولالمثله لاحتمال انوثته وذکورة المقتدی (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۰ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۷۷) اوپه عنین کی ددی قسم هیڅ احتمال نه وی. والله اعلم. ظفیر

(۴). قال رسول الله ﷺ لاتنتفوا الشیب فانه ما من سلم یشیب شیبة فی الاسلام الا کان له نورا یوم القیامة رواه ابوداود (کتاب الترغیب والترهیب لابن حجر ص ۱۹۲). ظفیر

چې دچا راسته لاس دغوږ ترنرمۍ پورې نه رسیږي دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۸۷۶) زما راسته لاس دغوږ ترنرمۍ پورې نه رسیږي، په داسې حالاتو کې زما امامت په پنځه وخته لمونځونو اوجمعه وغیره کې جائزدی اوکه نه؟

جواب: په دې صورة کې دسائل امامت په پنځه وخته لمونځونو اوجمعه وغیره کې بې کراهته صحیح دی هیڅ وجه دامامت دکراهت نسته ولې چې فقهاوو رحمهم الله تعالی چې کم لیکلي دي چې ابهامین دې په وخت دتحریمې کې دغوږونو دنرمیو سره ولګوي، نوداپه اصل کې دمحاذات حاصلولو دپاره دي څه رکم چې دفقهاوو تحقیق اودحدیث درواياتو څخه ښکاره کیږي. نوکه چیرې دڅه عذر په وجه سره دغوږ دنرمۍ سره لاس لګول ونسي اومحاذات دابهامینو (یعني غټو ګوتو) داذنینو (یعني غوږونو) سره حاصل سي نو داسنت به اداء سي. په درمختار کې دي:

ورفع یدیه ماسًّا بابهامیه شحمتی اذنیه هو المراد بالمحاذاة لانها لا تتیقن الا بذلك الخ قوله (هو المراد بالمحاذاة) أي الواقعة في كتب ظاهر الرواية وبعض روايات الاحاديث كما بسطه في الحلية ووفق بينها وبين روايات الرفع إلى المنكبين، بأن الثاني إذا كانت اليدان في الثياب للبرد كما قاله الطحاوي أخذا من بعض الروايات، وتبعه صاحب الهداية وغيره، وَاعْتَمَدَ ابْنُ الْـهُمَامِ التَّوْفِيقَ بِأَنَّهُ عِنْدَ مُحَاذَاةِ الْيَدَيْنِ لِلْمَنْكِبَيْنِ مِنْ الرُّسْغِ تَحْصُلُ الْـمُحَاذَاةُ لِلْأُذُنَيْنِ بِالْإِبْهَامَيْنِ ، وَهُوَ صَرِيحُ رِوَايَةِ أَبِي دَاوُد. شامي ([1]) جلد اول. اودهدایې صاحب رح صرف محاذات واخستل یعني دتکبیر تحریمه په وخت کې دې ابهامین (یعني غټې ګوتې) دغوږونو سره برابرې کړي. ویرفع یدیه حتی یحاذی بابهامیه شحمتی اذنیه. ([2]) هدایه اوددې په دلیل کې یې داحدیث پیش کړې دی: ولنا رواية وائل بن حجر رضی الله عنه والبراء رضی الله عنه وانس رضی الله عنه أن النبی صلی الله علیه وسلم کان اذا کبر رفع یدیه حذاء اذنیه الخ هدایه ([3]) ددې څخه معلومه سوه چې داحنافو په نزد اصل دادی چې ابهامین دې داذنینو سره برابر کړي. نوکه چیرې دڅه عذر په وجهې سره لاس دغوږ نرمیوته ونه رسیږي اومحاذات حاصل سي نو داسنت اداء سو. فقط

دبې نکاحه ښځې ساتونکي امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۸۷۷) زید اوهنده نامحرمه په یو کورکې دخپلو په شان اوسي اودنکاح متعلق پرپوښتنه کولو باندې زید وایي چې موږ په خپلو کې ایجاب او قبول کړې دی، هم خانګې یې ثابته ده ، داسې سړي دامامت

([1]). ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل تالیف الصلوة ص ۴۵۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۸۲ – ۴۸۳ . ظفیر
([2]). هدایه باب صفة الصلوة ص ۹۴ ج۱. ظفیر
([3]). هدایه باب صفة الصلوة ج ۱ ص ۹۴ . ظفیر

قابل دی اوکه نه؟

جواب: ایجاب اوقبول که چیری ددوو شاهدانو په مخکی وکړی، نونکاح تړل کیږی، مثلاً په خپله سړی اوښځه ددوو شاهدانو په مخ کی ایجاب اوقبول وکړی اوڅوك دریم سړی نکاح تړونکی نه وی بیاهم نکاح کیږی. نوکه چیری زید داووایی چی موږ پخپله ایجاب اوقبول ددوو شاهدانو په موجودګی کی کړی دی نودهغوی نکاح ثابته ده، هغوی ښځه اوخاوند ګڼل پکاردی. اودبی نکاحه ښځی ساتلو الزام پرهغه باندی لګول نه دی پکار، اولمونځ په هغه پسی (١) صحیح دی.

دنوی مسلمانی ښځی دجائز زوی امامت درست دی: **سوال** : (٨٧٨) زید دنوی مسلمانی هندیی سره دشریعت حقه مطابق نکاح وکړه، دنکاح څخه وروسته دنوی مسلمانی دنس څخه یوهلك پیداسو. هغه چی دبلوغ څخه وروسته دشرعی احکامو څخه ښه خبردار سی نولمونځ ورکولی سی اوکه نه؟ که چیری دهغه امامت جائزوی نوچی څوك ورته ناجائز وایی هغه ګنهګار وی اوکه نه ؟

جواب: دهغه امامت بغیر دکراهته صحیح دی اوکم سړی چی داوایی چی په ده پسی لمونځ جائز نه دی هغه پرغلطی باندی دی، هغه ته مسئله معلومه نه ده (٢). فقط

چی څوک تراوږو پوری وریښته ساتی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (٨٧٩) دچا وریښته چی تراوږو پوری وی دهغه امامت جائزدی اوکه نه ؟ بکر وایی چی دداسی سړی امامت جائز نه دی.

جواب: دبکر قول غلط دی، دزید امامت په دی وجه سره مکروه نه دی ولی چی بعضی وخت به دحضور ﷺ وریښته مبارك تر اوږو پوری رسیدل. لکه چی امام نووی ؒ فرمایی:

ووجه اختلاف الروایات فی قدر شعره اختلاف الأوقات فاذا غفل عن تقصیرها بلغت المنکب واذا قصر ها کانت الٰی انصاف الاذنین. (٣) فقط

دچا دزخم څخه چی زوی راوزی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (٨٨٠) دکم سړی دمقعد په یوه حصه کی چی ننکی (دانی) وی او دهغه څخه اوبه ، زوی راوزی ، کله بندی

---

(١). وینعقد متلبسا بایجاب من احدهما وقبول الاخر ٭ وشرط کل من العاقدین لفظ الاخر لیتحقق رضاهما وشرط حضور شاهدین حرین مکلفین سامعین قولهما معا علی الاصح (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب النکاح ص٣٢١ ج٢، ط.س. ج٣ ص ٩). ظفیر

(٢). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقیل واجب وقیل سنة (درمختار) ای وان کان غیرمبتحر فی بقیة العلوم وهواولی من المتبحر (رد المحتار باب الامامة ص ٥٢٠ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٧). ظفیر

(٣). شرح نووی للمسلم باب صفة شعره ﷺ ص ٢٢٨ ج٢ . ظفیر

هم سی نو داسی سړی مستقل دجومات امام کیدی سی اوکه نه؟

چی دچا دپلار حال معلوم نه وی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۸۸۱) دکم سړی دپلار حال چی معلوم نه وی چی څوك وو، آیا هغه دجومات مستقل امام کیدی سی اوکه نه؟

جواب: (۱) په کم حالت کی چی زوی اواوبه وغیره دهغه څخه بهیږی، په هغه حالت کی په هغه پسی لمونځ صحیح نه دی اوپه کم حالت کی چی بندوی، په هغه وخت کی په هغه پسی لمونځ صحیح دی اوپه دی کی قول ددغه امام معتبر دی. ([1])

(۲) که چیری هغه پخپله دامام جوړولو لائق دی مثلاً دلمونځ دمسائلو څخه خبردی او قرآئت صحیح وایی اودفسق اوفجور څخه ځان ساتی نوهغه امام جوړولی سی. په شامی کی تصریح ده چی که چیری ولد الزنا پخپله صالح اوعالم وی، نو دهغه امامت بغیر کراهته صحیح ([2]) دی. فقط

دشافعی المذهب اقتداء؟ ([3]) **سوال**: (۸۸۲) دشافعی المذهب اقتداء په حنفی المذهب امام پسی درسته ده اوکه نه؟ یوسړی په حنفی پسی دشافعی المذهب اقتداء ته ناجائز وایی، اوپه عدم جواز باندی یی دلاندینی عبارت حواله درج کړیده اویوخط یی درجستر په ذریعه رالیږلی دی، چی په هغه سره په خپلوانو کی تفرقه راغلی ده. هغه عبارت دادی: قال شیخنا إبن حجر الهیثمی تبعا لشیخه الزکریا الانصاری: وکذا لو کان الامام لا یعتقد وجوب بعض الارکان او الشروط وان اتی بها لانه یقصد بها النفلیة وهو مبطل عندنا کما فی فتح المعین ﷺ

جواب: په حنفی مذهب کی په دی باره کی تحقیق دادی چی اقتداء دحنفی په شافعی المذهب امام پسی جائز ([4]) ده. اودشوافعو په نزد هم معتبره (خبره) همدا معلومیږی چی

([1]). ولا یصلی الطاهر خلف من فی معنی المستحاضة (هدایه باب الامامة ص ۱۱۳ ج۱) . ظفیر

([2]). ولد الزنا هٰذا ان وجد غیرهم والا فلا کراهة (درمختار) ولو عدمت ای علة الکراهة بان کان الاعرابی فضل من الحضری، والعبد من الحر، وولد الزنا من ولد الرشدة والاعمی من البصیر فالحکم بالضد ﷺ ولعل وجهه ان تنفیر الجماعة بتقدیمه یزول اذا کان افضل من غیره بل التنفیر یکون فی تقدیم غیره (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ وص۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ – ۵۲۲). ظفیر

([3]). دزیات تحقیق دپاره ددې حصې په پای کی رساله مسمٰی په (غایة التحقیق ونهایة التدقیق، فی تحقیق مسئلة اقتداء الحنفی بالشافعی) دعلامه سندی رحمه الله وګورئ. محمد أحمد الحقانی الأفغانی عفی الله عنه

([4]). وکذا تکره خلف امرد (الی قوله) وزاد بن مالك ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعاة لم یکره (در مختار) واما الاقتداء بالمخالف فی الفروع کالشافعی فیجوز مالم یعلم منه مایفسد الصلاة علی اعتقاد المقتدی علیه الاجماع انما اختلف فی الکراهة (رد المحتار مطلب فی الاقتداء بشافعی ص۵۲۲ ج ۱، =

دهغوی په نزد هم اقتداء دشافعی په حنفی امام پسی صحیح ده، اوکم قسم روایات چی دغه منکر سړی رالیږلی دی داقسم روایات په حنفی مذهب کی هم سته، خوهغه معتبر نه دی. دهمدی قبیل څخه دغه روایت معلومیږی، ولی چی دحرمینو دعلماوو عمل ددی خلاف دی، هلته برابر شوافع دحنفیانو اوحنفیان دشوافعو اقتداء بلا انکار کوی. باقی روایات چی هرقسم وی خواعتبار دمحققینو دقول دی. نو په داسی روایاتو سره څه تردد دشافعی داقتداء په حنفی امام سره کیدل نه دی پکار. پوره تفصیل دشوافعو دمذهب په کتابونو کتلو سره معلومیدی سی، کم چی زیات دلته موجود هم نه دی، اودکتلو فرصت یې هم نسته. (۱) فقط

دخاوند اقتداء: **سوال**: (۸۸۳) یوه ښځه په یوازی والی کی په خاوند پسی فرض لمونځ کولی سی اوکه نه؟

جواب: که چیری ښځه په خپل خاوند پسی اقتداء کوی نولمونځ یی صحیح دی خوهغه ته برابر دریدل نه دی پکار، شاته دی داودریږی. اوکه چیری یوازی نیت تړی نوبیاکه ورسره برابره ودریږی اوکه وروسته، هرډول لمونځ صحیح دی. په درمختار کی دی: واما الواحدة فتتاخر، وفیه: اما اذا کان معهن واحد ممن ذکر ای اخته وزوجته او أمَّهنَّ فی المسجد لایکره. (۲) بحر. فقط

صرف په لنګ او دستمال سره لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال: (۸۸۴) امام چی یولنګ ووهی، اویو دستمال پرځان وپیچی نوامامت یی درست دی اوکه نه؟

جواب: درست دی. فقط

دمصنوعی غاښ جوړونکی امام کیدل څنګه دی؟ سوال: (۸۸۵) یوسړی دجومات امام دی. دهغه غاښونه مصنوعی دی نو دمصنوعی غاښونو په لګولوسره قرآن کریم ویل اوامامت کول درست دی اوکه نه؟

جواب: درست دی. فقط (ځکه چی غاښ لګول فقهاوو درست لیکلی دی، برابره خبره ده که هغه دسپینوهم وی. بلکی امام محمدؒ دسرو زرو غاښ لګولو ته هم درست وایی:

إِذَا جُدِعَ أَنْفَهُ أَوْ أُذُنُهُ أَوْ سَقَطَ سِنُّهُ ، فَأَرَادَ أَنْ يَتَّخِذَ سِنًّا آخَرَ فَعِنْدَ الْإِمَامِ يَتَّخِذُ وَذَلِكَ مِنْ الْفِضَّةِ فَقَطْ ، وَعِنْدَ

= ط. س. ج۱ ص ۵۲۲ – ۵۲۳).

(۱). الدر المختار ص ۸۳ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۷۲ . ظفیر

(۲). والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحد متوشحا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسیر وجود الطاهر الزائد ولکن فیه ترك الاستحباب (غنیة المستملی فصل الذی یکره فی الصلوة ص ۳۳۷). ظفیر غفرله ذنوبه

مُحَمَّدٍ رحمہ اللہ مِنَ الذَّهَبِ أَيْضًا. ، (ردالمحتار کتاب الحظر والإباحة فصل فی اللبس ص ۳۱۸ ج ۵. ظفیر)

ددهوکی وړکونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۸۸۶) مایو سړی ته یوه توله سره زر ورکړی وه چی ته ددی څخه ګشتٰه [1] جوړه کړه. خلاصه داچی هغه سره زرکښی ښوول او داوسپنی کشته یی ماته راکړه اوهغه امام دی، لهٰذاپه هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی فاسق دی، په هغه پسی لمونځ مکروه دی، هغه دامامت څخه معزول کول پکار [2] دی. یا داچی هغه توبه وکاړی. فقط

دظلم دفع کولو دپاره چی کم سړی دروغ ووایی دهغه امامت څنګه دی: سوال: (۸۸۷) خلاصه داچی زید په عمر باندی ددروغو دعوٰی په عدالت کی دائره کړه. حال داچی زید په څه خبره باندی مجبوره سوی وو اوعمر یی په خپلو وهلی وو، خودعوٰی په بل عنوان اونامه باندی وسوه. دعمر وکیل دعمر دطرفه قطعًا انکار وکی ولی چی په اقرار سره دسزا وړکول کیدو اندیښنه وه په داسی صورة کی په عمر پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی دظلم دفع کولو دپاره دروغ ویل جائز دی. الكذب مباح لاحياء حقه ودفع الظلم والمراد التعرض [3] الخ. لهٰذا په دی صورة کی دعمر امامت صحیح دی اولمونځ په هغه پسی بغیرکراهته درست دی.

ښځی دجومات دامام اقتداء په نژدی کور کی کولی سی؟ سوال: (۸۸۸) دجومات سره په نژدی کورکی زنانه دجمعی اواخترونو لمونځ دامام په تکبیر باندی اداء کولی سی اوکه نه؟ جواب: کولی یې سی [4]. فقط

چی دچا پښې پرې سوی وی دهغه امام کیدل څنګه دی؟ سوال: (۸۸۹) دیوسړی دواړی پښې ترزنګنونو پوری پرې سوی دی چی دهغه په وجهی سره رکوع اوجلسه کماحقه نه اداء کیږی او قرآن شریف صحیح وایی، دلمانځه روژی پایبنده دی، د داسی سړی امامت

---

[1]. کشتٰه: یو قسم خاص دارو کم چی دسرو زرو اونورو موادو پـه ګډولو سره یې طبیبان جوړوی او دطاقت زیاتولو دپاره مفید دی، دا دارو اکثره زیات مالداره خلګ استعمالوی. واللہ أعلم. محمّد أحمد حقانی"

[2]. ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشى فى شرح المنية ان كراهة تقديمه (اى الفاسق) كراهة تحريم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفير

[3]. الدر المختار على هامش رد المحتار كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع ص ۳۷۷ ج ۵، ط. س. ج۶ ص ۴۲۷. ظفير

[4]. والحائل لا يمنع الاقتداء إن لم يشتبه حال إمامه بسماع أو رؤية، ولو من باب مشبك يمنع الوصول في الاصح ولم يختلف المكان حقيقة كمسجد وبيت في الاصح ولو اقتدى من سطح داره المتصلة بالمسجد لم يجز لكن تعقبه في الشرنبلالية، ونقل عن البرهان وغيره أن الصحيح اعتبار الاشتباه فقط. (درمختار) اى ولاعبرة باختلاف المكان الخ والذى يصحح هٰذا الاختيار ما روينا ان رسول الله ﷺ كان يصلى فى حجرة عائشه رضی اللہ عنہا والناس يصلون بصلاته الخ (رد المحتار باب الامامة ص ۵۴۸ وص ۵۵۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۶-۵۸۸). ظفير

صحیح دی اوکه نه؟

جواب: لمونځ په هغه پسی صحیح دی لیکن ښه داده چی بل امام مقرر کړل سی دچاچی لاس اوپښی صحیح اوسالم وی، اوهغه عالم اوصالح اودامامت په صفاتو سره متصف وی. په شامی کی دی: وکذا اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولی تاتارخانیه وکذا (۱) اجذم الخ. ددی څخه معلومه سوه چی دپښو پریکړی امامت په درجه اولی مکروه دی. که څه هم لمونځ په هغه پسی کیږی، خوښه داده چی بل امام مقرر کړی. فقط

<u>په رشتینی شاهدی ورکونکی پسی لمونځ درست دی</u>: **سوال**: (۸۹۰) کم سړی چی دڅه ضرورت په وجه رشتینی شاهدی ورکوی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه مکروه؟

جواب: رشتینی شاهدی ورکول موجب دثواب ده اوپه بعضو موقعو کی ضرورت سی، لهٰذا لمونځ په هغه پسی بغیر کراهته درست دی. فقط

<u>په قرآنی آیتونو سره دپیسو ګټونکی امامت</u>: **سوال**: (۸۹۱) دداسی سړی امامت درست دی اوکه نه څوك چی په قرآنی آیتونو سره عمل (یعنی دم اوچوپ) کوی اواجرت اخلی؟

<u>دسفلی عمل څخه دتوبه کونکی امامت</u>: (۲\۸۹۲) کم سړی چی سفلی عمل کوی اوبیا رشتینی توبه وکاږی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟

جواب: (۱) درست (۲) دی.

(۲) وروسته دتوبی څخه امامت دهغه (۳) درست دی. فقط

<u>کم مسلمان چی دبنګی دجنازې لمونځ کوی دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟</u> **سوال**: (۸۹۳) یو سړی دبنګیانو جنازه کوی، کله چی دبنګی په کور کی ماشوم پیداسی نودهغه په غوږ کی اذان ورکوی، آیا داسی سړی دامامت قابل کیدی سی، دداسی سړی دپاره شریعت څه سزا ټاکی؟

جواب: که چیری دغه بنګیان مسلمانان وی نو دهغوی دجنازی لمونځ کول ضروری دی اودهغوی دماشوم په غوږکی اذان ویل هم مشروع دی، لهٰذا پردغه سړی باندی اعتراض نسته (۴) اوکه چیری دغه بنګیان کافران وی، داسلام کلمه نه وایی نوبیا داکارونه ناجائز

---

(۱). ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲** . ظفیر

(۲). په قرآنی آیتونو باندی په دم اوچوپ کولوباندی اجرت اخستل جائزدی. لان المتقدمین المانعین للاستیجار مطلقا جوزوا الرقیة بالاجرة ولو بالقرآن کما ذکر الطحاوی لانها لیست عبارة محضة بل من التداوی (ردالمحتار. کتاب الاجارة مطلب فی الاستیجار علی الطاعات ص ۴۸ ج **۵** ، ط.س. ج۱ ص ط.س. ج۲ ص **۵۵**). ظفیر

(۳). قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰة باب الاستغفار فصل ثالث ص ۲۰۷) . ظفیر

(۴). وهی فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة الجنائز ص ۸۱۴ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۲۱۰). ظفیر

(۱) دی. دغه امام ته ددی څخه توبه کول پکاردی او وروسته دتوبی څخه هغه امام پاته کیدی سی. فقط

چی امام په مکروه وخت کی جمعه ورکوی نومقتدیان دی څه وکړی؟ سوال: (۸۹۴) د درگاه سره نژدی یو جومات دی، دهغه سجاده نشین (مشر) په آخری مکروه وخت کی لمونځ کوی اوامام اومؤذن هم دهغه دمرضی مطابق کارکوی. آیادمحلی خلگوته داحق سته چی په اول وخت کی لمونځ اداء کړی. اودغه امام لیری کړی اوبل امام مقرر کړی، داخبره درسته ده اوکه نه؟

جواب: اولاً واضحه دی وی چی هریو لمونځ په اول وخت کی اداء کول داحنافو په نزد مسنون اومستحب نه دی بلکی دسهار په لمونځ کی اسفار مستحب دی. هم دغه رکم په دوبی کی په ماپښین کی تاخیر مسنون دی او دماخستن په لمانځه کی دشپی تردریمی حصی پوری تاخیر مستحب دی، (۲) اودادی هم واضح وی چی مکروه وخت صرف په مازدیگر کی دی، چی مازدیگر دومره مؤخر کړی چی په لمر کی تغیر راسی اوژړوالی پکښی راسی، باقی په نورو لمونځونوکی ټول وخت کامل دی، مکروه وخت په هغوی کی نسته، البته دماخستن لمونځ دنیمی شپی څخه وروسته کول په بلی وجهی سره چی هغه تقلیل دجماعت دی مکروه (۳) دی. غرض داچی هریو لمونځ مؤخر کول مکروه نه دی بلکی دمازیگر لمونځ دغروب څخه ترمخکی پوری مؤخر کول اودماخستن لمونځ دنیمی شپی څخه وروسته کول مکروه دی. ددی څخه وروسته جواب ظاهردی چی که چیری سجاده صاحب اوامام صاحب داسی نه کوی چی دمازیگر لمونځ غروب ته نژدی کوی او دماخستن لمونځ دنیمی شپی څخه وروسته کوی نوصرف دسهار اوماپښین په لمونځ او دماخستن اومازیگر په لمونځ کی دتاخیر کولو په وجهی سره دهغوی مخالفت دی ونه سی. اومخکنی امام دی موقوف نه سی البته حتی الوسع داحنافو په نزدچی کم مستحب اوقات دی دهغه رعایت دی وسی لیکن که چیری یولمونځ په مکروه وخت کی نه کیږی نوبیا مخالفت کول اوجگړه کول درست نه دی. فقط

دبرص والا امامت: **سوال**: (۸۹۵) کم سړی چی سید او دمسائلو څخه خبر وی او پرهیزگار

(۱). وشرطها ستة اسلام المیت (ایضًا ص ۸۱۱ ج ۱، ط.س. ج۲ ص ۲۰۷). ظفیر

(۲). ویستحب الاسفار بالفجر والابراد بالظهر فی الصیف وتقدیمه فی الشتاء فی الشتاء وتاخیر العصر مالم تتغیر الشمس فی الصیف والشتاء ویستحب تعجیل المغرب وتاخیر العشاء الی ماقبل ثلث اللیل (هدایه مختصراً ص۷۸ ج۱).

(۳). وتاخیر عشاء (الی قوله) فان اخرها الی مازاد علی النصف کره لتقلیل الجماعة اما الیه فمباح واخر العصر الی اصفرار ذکاء (الدر المختار کتاب الصلاة، ط.س. ج۱ ص ۳۶۸). ظفیر

وی لیکن دهغه په ګوتوکی پردوه دری ګوتو باندی دبرص داغ وی، په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په ذکر سوی امام پسی لمونځ بغیر کراهته درست دی، دبرص په دومره قدر داغ سره دامام مذکور په امامت کی هیڅ کراهت نه راځی. کذا فی الشامی (۱). فقط

دقادیانی امامت درست نه دی؟ سوال: (۸۹۶) په قادیانی فرقی پسی لمونځ کول جائزدی دی اوکه نه؟

جواب: درست نه دی ولی چی دهغوی پرکفر باندی فتوٰی (۲) ده. فقط

عالم دجاهل اقتداء کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۸۹۷) که چیری یوجاهل لمونځ ورکوی اویو عالم یاعالم دمسائلو په قدر دضرورت راغی، نودغه عالم په هغه پسی اقتداء وکړی او که نه؟ که اقتداء یی وکړه نوپه لمانځه کی یی څه قصور خو رانه غی؟

جواب: اقتداء دی وکړی په لمانځه کی څه قصور نسته (۳). فقط

کم سړی چی په استنجاء کی صرف اوبه استعمالوی دهغه امامت؟ سوال: (۸۹۸) یوسړی عادةً لوټه نه استعمالوی متیازی وکړی اوحشفه ومینځی نو په دی وجهی سره دهغه طهارت ناقابل اعتباردی، اوهمدغه سړی لمونځ ورکوی، نواوس محتاط سړی چی کله راغی نو دی په هغه پسی اقتداء اوکړی اوکه نه؟ که چیری اقتداء نه کوی نوآیا ځان ته جلا فرض دی وکړی اوکه دی دهغه دفراغت په انتظار کی ولاړ اوسی، کله چی جمعه ختمه سی هلته دی وکړی؟

جواب: اقتداء دی وکړی اوهیڅ وهم دی نه کوی. (۴) فقط

دصاحب ترتیب اقتداء په هغه چاپسی دچا لمونځونه چی فوت کیږی: **سوال**: (۸۹۹) دصاحب ترتیب اقتداء په هغه امام پسی کیږی اوکه نه دچاچی لمونځ فوت کیږی؟

جواب: کله چی امام صاحب ترتیب نه دی نودهغه لمونځ صحیح دی نوپه هغه پسی دصاحب ترتیب لمونځ هم صحیح دی ولی چی د مقتدی لمونځ دامام د لمانځه تابع دی

---

(۱). وکذا تکره خلف امرد الخ وابرص شاع برصه (درمختار) والظاهر ان العلة النفرة ولذا قید الابرص بالشیوع لیکون ظاهراً (ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۵ ج۱ ، ۵۲۲). ظفیر

(۲). وان انکر بعض ماعلم من الدین ضرورة کفر بها الخ فلایصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص۵۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۱). ظفیر

(۳). فاذا اخرج الحروف اخرجها علی الصحة لایکره ان یکون امام (عالمگیری مصری ص۸۱ ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۸۲).

(۴). الیقین لایزول بالشك (الاشباه والنظائر القاعدة الثالثة ص ۷۵) ثم اعلم ان الجمع بین الماء والحجر افضل ویلیه فی الفضل الاقتصار علی الماء ویلیه الاقتصار علی الحجر وتحصل السنه بالکل وان تفاوت الفضل (رد المحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۱۳ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۳۳۸). ظفیر

صحةً اوفساداً ([1]) (دصحت په اعتبار سره هم اودفساد په اعتبار سره هم). فقط

دمسبوق اقتداء: **سوال**: (۹۰۰) یوسړی په جمعه کی هغه وخت شریك سو کله چی امام یو رکعات کړی وو دجمعی ختمیدلو څخه وروسته ذکر سوی سړی خپل باقی مانده پوره کوی، په دی وخت کی دوو نورو سړیانو اودس وکی اوپه مخکنی سړی پسی یی نیت وتړی او ودریدل. مخکنی سړی خپل رکعت پوره کړی کم دوه سړی چی وروسته راغلی وه دهغوی یورکعات باقی پاته سو. ددی څخه وروسته یو یا دوو نورو سړیو اودس وکی اودهغوی څخه وروسته ودریدل. همدغه رکم پنځه واره شاملیدل وسول، په دی طریقی سره اقتداء درسته سوه اوکه نه؟

جواب: دکم سړی چی یو یادوه رکعاته فوت سی او وروسته راسی په جمعه کی شامل سی هغه ته مسبوق وایی کم وخت چی دامام دسلام گرځولو څخه وروسته هغه دخپل رکعات دپوره کولو دپاره ولاړیږی نوپه هغه پسی دچا اقتداء کول درست نه دی، ددغه مقتدیانو لمونځ به نه صحیح کیږی کم چی به راتلل اوشاملیدل به څنگه چی په درمختار کی دمسبوق په حال کی دی: لا یجوز الاقتداء ([2]) به. فقط

دترک واجب په وجهی سره چی څوک دجماعت اعاده کوی دهغه اقتداء بل څوک نسی کولی: **سوال**: (۹۰۱) دترکِ واجب په وجهی سره په دوهمه جمعه کی که چیری څوك نوی داسی سړی شریك سی دچا په ذمه چی فرض باقی دی، یا دمخکنی جمعی مسبوق دچا چی په مخکنی جمعه کی دشریکیدلو څخه مخکی ترکِ واجب سوی وو هغه خپل لمونځ پوره کړی اوپه دوهمه جمعه کی شریك سی، یاپه مخکی جمعه کی دشریکیدلو څخه وروسته چی دامام څخه واجب ترك سو اوبیا مسبوق لمونځ پوره کی اوپه دوهمه جمعه کی شامل سو، په دی دری واړو صورتونو کی به دچا لمونځ صحیح کیږی اودکمی درجی به وی اودچا دابه نه صحیح کیږی. اویوشکل دادی چی مسبوق اخته دی خپل لمونځ پوره کوی اودوهمه جمعه شروع سوه نو دهغه شریکیدل ورسره مناسب دی اوکه نه؟

جواب: صحیح داده چی دترکِ واجب په وجهی سره دوباره لمونځ کول جابر دمخکی (لمونځ) دپاره دی، یعنی فرضیت مخکی اداء سو بس کم نوی سړی چی په دوهمه جمعه

([1]). فلا یلزم الترتیب اذا ضاق الوقت المستحب حقیقة الخ ونسیت الفائتة لانه عذر اوفاتت ستة اعتقادیة لدخولها فی حد التکرار المقتضی للحرج (در المختار علی هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ص ۲۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۷). ظفیر

([2]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی المسبوق واللاحق ص ۵۵۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۷. ظفیر

کی شریکیږی دهغه فرض لمونځ به نه صحیح کیږی، همداخبره محقق ابن همام رحمه الله خوښه کړیده اوهمدا صحیح ده. نومسبوق ته پکار دی چی خپل لمونځ دی پوره کړی، بیا دی په دوهمه جمعه کی شریک سی، اوکه چیری مخکنی لمونځ یی مات کی اوپه دوهمه جمعه کی شریک سو نودهغه لمونځ به نه صحیح کیږی. په درمختار کی دی: والمختار انه جابر للاول لان الفرض لایتکرر الخ. فقط

په تراویح کونکی پسی دفرض والا لمونځ درست نه دی: **سوال:** (۹۰۲) دزید دعویٰ ده چی دتراویح لمونځ اوس کیږی، اوبکر چی وروسته راورسیدی نو دماخستن فرض لمونځ دی ځان ته جلا نه کوی بلکی په امام پسی دی کوی په کم حالت کی چی امام دی پخپله دی بکر دماخستن دفرض لمونځ نیت وکړی اوپه جمعه کی دی شامل سی، دبکر فرض به وسی.

دمازیګر لمونځ کونکی اقتداء دماپښین لمونځ کونکی نه سی کولی: (۹۰۳\۲) دزید دعویٰ ده چی دمازیګر جمعه کیږی، بکر چاچی ددی ورځی دماپښین لمونځ تراوسه پوری اداء کړی نه دی وروسته راغی نودامام سره دی دماپښین دلمانځه نیت وکړی، اوشامل دی سی، دهغه دماپښین لمونځ به وسی دمازیګر لمونځ دی وروسته وکړی.

جواب: (۱) دزید دعویٰ غلطه په تراویح کونکی پسی فرض نه ادا کیږی. ([1])

(۲) دادعویٰ هم دزید غلطه ده، دمازیګر په لمونځ کونکی پسی دماپښین لمونځ نه صحیح کیږی. ([2]) فقط

دمولود مروجه اوقوالی اوعرس کونکی امامت درست دی اوکه نه؟ اوکه مجبوری وی نوڅه دی وسی؟ **سوال:** (۹۰۴) کم سړی چی مروجه مولود کوی اوپه هغه کی غزلی ویل کیږی اوپه عرس وغیره کی هم شریکیږی، اوقوالی اوری، په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟ که نه کیږی اودهغه په لیری کولو کی فتنه وی نوپه دی صورة کی څه حکم دی؟

جواب: لمونځ صحیح کیږی لیکن که چیری دهغه په لیری کولو کی فتنه نه وی نوهغه دی دامامت څخه لیری سی، اوکه چیری فتنه وی نوپه هغه پسی دی لمونځ کوی څکه چی تر یوازی لمونځ کولو په هغه پسی لمونځ کول په جمعی سره ښه دی. ([3]) هکذا فی الشامی

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة ص ۴۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۵۷. ظفیر

([2]). لا یصح اقتداء رجل بامرأة الخ ولا مفترض بمتنفل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۹). ظفیر

([3]). وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة (درمختار) افاد ان الصلاة خلفهما =

وغیرها. فقط

که په روافضو پسی یی لمونځ وکی نو صحیح سو اوکه نه؟ سوال: (۹۰۵) رافضی (یعنی شیعه) څوك چی اصحاب ثلاثه (ابوبکر ﷺ، عمرﷺ، عثمانﷺ) ته بد وایی اوحضرت علی ﷺ ته ښه وایی آیا په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی؟ که چا وکی نو راګرځول یی پکار دی اوکه څنګه؟

جواب: شیخینو ته په بد رد ویونکی رافضی پسی لمونځ صحیح نه دی په هغه پسی لمونځ مه کوی که کړی مو وی نو راګرځول یی پکار (۱) دی. فقط

دنو عمر هلک امامت که چیری هغه په قرآئت کی غلطی کوی څنګه دی؟ سوال: (۹۰۶) یو نوعمر بی ږیری اوبریتو هلك دیوجومات په امامت باندی مقرر سوی دی، هغه دقیام په حالت کی په بیباکی سره آسمان طرفته ګوری اواکثره په خپل مصنوعی تجوید کی الله اکبر (نعوذ بالله منه) وایی، دجماعت اکثره ناخبره مسلمانان دهغه امامت جائز ګڼی اوپه هغه پسی لمونځ کوی، اوکم سړی چی په ذکر سوی وجهی سره دهغه اقتداء مکروه ګڼی اوانکار باندی کوی اوپه خپل کور کی یاپه جومات کی دجمعی دلمونځ څخه وروسته یوازی لمونځ کولو ته ترجیح کوی، دجماعت خلګ هغه ګنهګار ګڼی اوترك تکلم وغیره ورسره کوی، دذکرسوی امام امامت، دمقتدیانو دافعل اودمنکر انکار جائزدی اوکه څنګه. اقتداء کونکی پرحق باندی دی یاهغه خلګ څوك چی اقتداء نه کوی؟

جواب: په درمختار کی دی: وکذا تکره خلف امرد وسفیهٍ ؒ اوپه شامی کی دی: الظاهر انها تنزیهیة الخ حاصل دادی چی په امرد پسی لمونځ مکروه تنزیهی یعنی خلاف اولی دی، لمونځ صحیح کیږی، لیکن که چیری یوه لمونځ ماتونکی غلطی دهغه څخه وسی نو لمونځ نه صحیح کیږی. (۲)

کم خلګ چی په ذکرسوی امرد (یعنی بی ږیری هلك) پسی لمونځ جائز ګڼی، اوکوی یی، هغوی پرحق باندی دی، لمونځ په هغه پسی صحیح دی. البته دالله پراول همزه باندی مدکول مفسد دصلوٰة دی، په داسی امام پسی لمونځ نه صحیح کیږی. (۳) لیکن که

= اولی من الانفراد لکن لاینال کماینال خلف تقی (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص**۵۶۲**).

(۱). ومبتدع لایکفر بها الخ وان انکر بعض ماعلم من الدین ضرورة کفر بها کقوله ان الله تعالی جسم کالاجسام وانکاره صحبة الصدیق فلایصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۴** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۷**). ظفیر صدیقی

(۲). ردالمحتار باب الامامت مطلب فی امامة الامرد ص **۵۲۵** ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** . ظفیر

(۳). اذا اراد الشروع فی الصلوة کبر ؒ بالحذف اذا مداحد الهمزتین مفسد وتعمده کفر (الدر المختار علی =

چیری هغه دامد پریږدی اوالله اکبر په صحیح طریقی سره وایی یعنی بالحذف، نولمونځ صحیح دی، نوکه چیری دمد کولو دانسبت ددغه امام طرفته صحیح وی بیا خو په دغه ذکر سوی امام پسی لمونځ پرینبونکی پرحق باندی دی، په هغوی باندی طعن نسی کیدی، دامام دامردوالی په وجه سره جمعه پرینبوول درست نه دی (۱). فقط

په ناست سړي پسي دولاړ اقتداء درسته ده اوکه نه؟ سوال: (۹۰۷) یوسړی دی، هغه په دی طریقی سره دلمونځ امامت کوی چی امام خو ناست وی اومقتدیان ولاړ اوسی.

جواب: دولاړ سړی لمونځ په ناست پسی درست دی لکه څنګه چی په درمختار کی دی: وقائم بقاعد یرکع ویسجد لانه ﷺ صلی اخر صلاته قاعداً وهم قیام (۲) الخ نوکه چیری امام معذور وی چی دریدلی نه سی نوهغه ته په ناسته جمعه ورکول درست دی اوپه هغه پسی ددریدونکو لمونځ درست اوصحیح دی.

په غیر مقلد پسي لمونځ درست دي اوکه نه؟ سوال: (۹۰۸) کم سړی چی غیر مقلدوی لیکن ددین امامانو ته بدنه وایی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: که چیری دهغه عقائد هم داهل سنت والجماعت موافق وی اوسلفو ته بدنه وایی نو لمونځ په هغه پسی صحیح (۳) دی.

څوک چي مړي ته غسل ورکوي دهغه امامت اوشاهدي درست دي اوکه نه؟ سوال: (۹۰۹) کم سړی چی دمړو لمبولو کسب کوی په هغه پسی لمونځ کول اودهغه شاهدی شرعًا جائز ده اوکه نه؟ که چیری جائز وی نوفتاوٰی خیریه والا چی دمړی لمبوونکی امامت ته مکروه ویلی او دهغه شاهدی یی غیر معتبر لیکلی ده، دهغه به څه مطلب وی؟

جواب: مړی ته دغسل ورکولو داجرت اخستلو په جواز اوعدم جواز کی اختلاف دی. په درمختار کی دی: والافضل ان یغسل المیت مجانًا فان ابتغٰی الغاسل الاجر جاز ان کان تمه غیره الخ وفیه تفصیل ذکره الشامی، وعبارة الفتح : ولا یجوز الاستیجار علی غسل المیت ویجوز علی الحمل والدفن واجازه بعضهم فی الغسل ایضا ۱ھ شامی (۴)

= 　هامش در المحتار فصل فی تالیف الصلوة ص ج ۱) ظفیر

(۱). کله چی دفاسق مبتدع په وجهی سره دجمعی پرینبولو حکم نسته نو دامرد دامام کیدلو په وجهی سره به دجمعی پرینبوول څنګه درست وی. صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة (در مختار) افاد ان الصلاة خلفهما اولی من الانفراد الخ (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۵۱ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۸). ظفیر

(۳). اوکه چیری بدرد ورته وایی نوددی په وجهی سره به هغه فاسق ګرځول کیږی. سباب المسلم فسوق (الحدیث) اودفاسق امامت مکروه تحریمی دی: وان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

نو مجوزين قائل دجواز دامامت بلا كراهت او دقبول دشهادت دی اوغیر مجوزین قائل دكراهت دامامت اوعدم قبول دشاهدی دی. نو قول دصاحب دفتاوىٰ خیریی مطابق یعنی قول پر عدم جواز باندی دی.

څوک چی مغلظ طلاق ورکړی ښځه بغیر دحلالولو څخه ساتی دهغه امامت صحیح دی او که نه؟ **سوال**: (٩١٠) دجومات پیش امام خپلی ښځی ته دری څلور واره طلاق ورکړی اود کور څخه یی وایسته اوبیا یی بغیر دحلالولو څخه په کورکی وساتله، په هغه پسی لمونځ جائز دی اوکه؟

جواب: دحلالولو څخه بغیر دمطلقه ثلاثه ساتل اوهغه ښځه جوړول حرام دی، دغه سړی فاسق اوزانی دی، په ده پسی لمونځ مکروه (١) دی.

څوک چی دکپړی آسونه جوړ کړی اودهغه تماشه خلکوته ښیی او پیسی ګټی دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟ **سوال**: (٩١١) یوسړی دکپړی آسونه رقصوی اوتپوپونه وربلندی وهی اوپه هغه باندی پیسی ګټی، په هغه پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: په هغه پسی لمونځ مکروه دی، دغه سړی فاسق اومبتدع (٢) دی.

دتعزیه پرست امامت څنګه دی؟ **سوال**: (٩١٢) یوسړی دجومات امام تعزیه پرستی ډیره کوی اوخلګو ته هم دهغه ترغیب ورکوی اوڅوک چی نذر اونیاز وربلندی اچوی هغه په خپل مصرف کی راولی. اویو تصویر یی راوړی دی وایی چی داتصویر دامام حسین دی، دخلګو څخه روپی او پیسی اخلی اودهغه زیارت وربلندی کوی، په هغه پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی فاسق اوبدعتی دی، دی امام جوړول حرام دی اوپه ده پسی لمونځ مکروه تحریمی دی. که چیری داسی سړی امام وی، نوکه چیری دی توبه ونه کاړی نودی دامامت څخه معزوله کول پکاردی. (٣)

دنابینا حافظ امامت درست دی: **سوال**: (٩١٣) یونابینا حافظ څوک چی قرآن شریف صحیح

(٤). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ص ٨٠٤ ج١ ، ط.س. ج٢ ص ١٩٩ . ظفیر

(١). ویکره امامة عبد الخ اواعرابی الخ. اوفاسق الخ (درمختار) من الفاسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربو اونحو ذالك (ردالمحتار باب الامامة. ص **٥٢٣** ج١ ، ط.س. ج١ ص **٥٢٠**). ظفیر

(٢). ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق واعمیٰ ومبتدع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص **٥٢٣** ج١ ، ط. س. ج١ ص **٥٢٠**). ظفیر

(٣). واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه الخ بل مشیٰ فی شرح المنیه علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص **٥٢٣** ج١ ، ط.س. ج١ ص **٥٢٠**) . ظفیر

وایی اودشرعی مسائلو څخه په ښه ډول خبر دی، خو دتراویحو دختم څخه علاوه پنځه وخته لمونځ اوجُمعی وغیره کی دکلی خلګ دهغه داقتداء څخه انکار کوی اووایی چی په نابینا پسی لمونځ درست نه دی. آیاپه دغه حافظ پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: حافظ نابینا ځوك چی دشرعی مسائلو څخه خبر دی. اوصالح اومحتاط دی نو دهغه په امامت کی هیڅ کراهت نسته، بی کراهته په هغه پسی لمونځ صحیح دی، بلکی په شامی کی یی تحقیق کړی دی چی دداسی نابینا امامت دهغه بینا څخه افضل دی په کم کی چی ذکر سوی صفتونه نه وی، په حدیث کی دحضرت عبد الله ابن أمّ مکتوم ﵁ چی نابینا صحابی وو، امام کیدل ثابت دی پخپله رسول الله ﷺ په سفر باندی دتللو وخت کی هغه دمدینی والاوو امام مقرر کړی وو. وکفٰی به حجةً (۱).

د ګروی دمزکی څخه دفائده اخستونکی امامت څنګه دی؟ سوال: (۹۱۴) قاضی امامِ مسجد مزکه په ګروی اخیستی ده او ددغه مزکی منافع خوری، دامنافع په سود کی داخلی دی اوکه نه؟ اوپه داسی سړی پسی اقتداء کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: دګرو سوی مزکی نفع مرتهن ته اخستل صحیح نه دی ځکه چی په سود کی داخل دی اوداسی امام امام جوړول ممنوع دی لمونځ په هغه پسی که څه هم سره دکراهته اداء کیږی لیکن هغه دائمی امام جوړول نه دی پکار. کذا فی الشامی (۲).

دشیخ او سید په موجود ګی کی بل سړی امام جوړیدی سی اوکه نه؟ او دتاجر امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۹۱۵) دشیخ اوسید په موجودګی کی بوډا امام جوړول څنګه دی او دوکاندار کم چی شریف اوپرهیزګار دی هغه امامت کولی سی اوکه نه؟

جواب: لمونځ په ټولو پسی کیږی دشیخ اوسید خاصوالی نسته. دشیخ اوسید لمونځ په غیر شیخ اوسید پسی کیږی، امام ته دامامت لائق کیدل پکاردی. دنسب په دی کی څه قید نسته. کم سړی چی دلمانځه دمسائلو څخه خبر وی اوپرهیزګار وی، هغه دامامت زیات حقدار دی، که سیدوی یادوکاندار وی، یاکسب والا وی، بوډا وی یاځوان (۳) وی.

چاته چی دقطری ناجوړی وی دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۹۱۶) امام ته دقطری

---

(۱). قید کراهة امامة الاعمی فی المحیط وغیره بان لا یکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی ؒ لکن ورد فی الاعمی نص خاص هو استخلافه ﷺ لابن ام مکتوم وعتبان علی المدینة وکانا اعمیین لانه لم یبق من الرجال من هو اصلح منهما ؒ (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) المراد به ان یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی وآکل الربا ونحو ذالك (ردالمحتار ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

(۳). والاحق بالامامة تقدیمًا بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحةً وفساداً (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

ناجوړې ده، بعضی وخت نیت مات کی او اودس وکړی اواستنجاء صفا کړی کله چی دهغه څخه بنه سړی موجود وی نو دهغه دجواز دامامت څه حکم دی؟

جواب: که چیری هغه شرعی معذور نه وی، کله کله ورته قطره راځی نوپه کم حالت کی چی هغه ته قطره نه راځی لمونځ په هغه پسی درست [1] دی. فقط

دشکرانو دشی خوروبکی امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۱۷) کم سړی چی د(زیارتونو) دشکرانو شیان خوری په هغه پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟ اوهغه دی قاضی جوړسی اوکه نه؟

جواب: داسی سړی کم چی دشریعت پابند نه وی اوپه بدعاتو کی مبتلاوی اودشکرانی (نذر دشی) څخه پرهیز نه کوی هغه دامام جوړولو لائق نه دی [2] اوهغه دی قاضی هم جوړنه سی.

په افیونی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۱۸) کم سړی چی غیر متشرع دلمونځ روژی پابند نه وی اوافیونی وی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په داسی امام پسی لمونځ مکروه دی، ولی چی هغه فاسق دی، اودفاسق امامت مکروه تحریمی [3] دی.

دقاتل او دخُمارګر امامت څنګه دی؟ **سوال**: (۹۱۹) یوسړی بل سړی په خپل لاس سره قتل کی یادبل چاپه ذریعه یی وژلی وو اودخُمار عادی هم وو. خودڅو ورځو څخه اوریدل کیږی چی خُمار وغیره یی پریښوول. داسی سړی دیوجومات امام جوړول اوپه هغه پسی لمونځ کول جائزدی اوکه مکروه؟

جواب: دامسلمه ده. التائب من الذنب کمن لا ذنب له. (مشکوٰۃ، باب الاستغفار والتوبة، فصل ثالث ص ۲۰۹. ظفیر) نوکله چی مرتکب دکبیری دګناه څخه توبه وکاږی او فسق دهغه مرتفع (یعنی لیری) سو نو امامت دهغه بغیر دکراهته درست دی.

دسودی قرض اخیستونکی اووعده نه پوره کونکی امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۲۰) زیدقرض داری دی، اوقرض سره دسوده اوبغیر دسوده دواړه قسمه دی وعدی دهرقسم کوی، خوپوره والی دهیڅ یوه نه کیږی. په داسی صورۃ کی په زیدپسی لمونځ درست دی

---

[1]. ولاطاهر بمعذور هذا ان قارن الوضوء الحدث اوطرأ علیه بعده وصح لوتوضا علی الانقطاع. ایضًا ص ۵۴۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸). ظفیر

[2]. ویکره امامة عبد (الی قوله) ومبتدع ای صاحب بدعة (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة مطلب البدعة خمسة اقسام ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

[3]. ویکره امامة عبد الخ وفاسق (در مختار) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر.

اوکه نه؟

جواب: لمونځ په هغه پسی صحیح دی. لیکن که چیری سود قرض اخلی نوګنهګار دی په دی حالت کی لمونځ په هغه پسی مکروه (۱) دی.

چی پرچا باندی دزنا تهمت ولګول سی خو شاهد هیڅوک نه وی، دهغه امامت څنګه دی،

سوال: (۹۲۱) زید په یوجومات کی امام دی، عاموخلګو دامشهوره کړیده چی زید هندی سره زنا کړیده عین شاهدی هیڅوك نه ورکوی دیو بل څخه اوریدلی وایی. په دی صورة کی په زید پسی لمونځ کول درست دی اوکه نه؟ اوکمو خلګو چی تهمت لګولی دی دهغوی په باره کی څه ارشاد دی؟

جواب: بغیر دڅه ثبوت څخه پرزید باندی داسی تهمت لګول حرام اوناجائز دی تهمت لګونکی ګنهګاران اوعاصیان دی، هغوی دی توبه وکاږی (۲). اودزید امامت درست دی، بی تامله په هغه پسی لمونځ کوی.

په مشرک تعزیه پرست پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۲۲) مشرك تعزیه پرست، جنډه پرست وغیره پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اوذبیحه دهغه حلاله ده اوکه نه، کله چی په بسم الله الله اکبر ویلو سره ذبحه کوی؟

جواب: په حدیث شریف کی دی صَلُّوا خَلْفَ كُلِّ بَرٍ وَفَاجِرٍ (الحدیث) لهٰذا تعزیه پرست چونکی كُلِّيَةً حقیقةً مشرکان نه دی، ددی وجه که چیری لمونځ په هغوی پسی وسو، نو وسو که څه هم احتیاط دادی چی ددغه لمونځ اعاده وسی او حتٰی الوسع دی په هغوی پسی لمونځ ونه (۳) سی. همدا حکم دهغوی دذبیحی دی چی حلاله ده، خواحتیاط په دی کی دی چی په هغوی باندی حلالی ونه سی.

دزانی اولوطی امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۲۳) یوسړی امام دی اوهغه زنا هم کوی اودهلکانو سره بدکارهم کوی، دهغه په باره کی څه حکم دی، آیادهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

جواب: داسړی کم چی زانی اولوطی وی دامامت قابل نه دی فاسق او عاصی دی، که چیری هغه توبه وکاږی فَبِهَا ، کنی هغه دی امام جوړ نه سی ځکه چی لمونځ په هغه پسی

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر واکل الربا ونحو ذالك (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

(۲). القذف هولغة الرمی وشرما الرمی بالزنا وهو من الکبائر بالاجماع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب حد القذف ص ۲۳۰ ج۳ ، ط.س. ج ۴ ص ۴۳). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد ﷺ (الی قوله) ومبتدع ای صاحب بدعة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

مکروه (۱) دی.

په عنین پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اوپه مورزاده نامرد اوعارضی کی فرق سته اوکه نه؟

سوال: (۹۲۴) په عنین پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اوپه مورزاده نامرد اوعارضی نامرد کی څه فرق سته اوکه نه؟

جواب: په عنین یعنی نامرده سړی پسی بی کراهته لمونځ درست دی برابره خبره ده که هغه پیدائشی نامرد وی یاپه وجه دعارض (نامرد) سوی وی.

امام چی څه غواړی ویل به یې کوی اوکه دمقتدی دهدایت مطابق؟ او دغزلو اوریدلو والا امامت مکروه دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۲۵) تابعداری مقتدی ته پکارده اوکه امام ته. اوامام چی کم قرآئت غواړی وایی به یې اوکه دمقتدیانو دوینا مطابق به یې وایی. که چیری امام غزلی اوری یا ددروغو شاهدی ورکوی نوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی: الامام ضامن، نو لمونځ دامام متبوع دی اومقتدیان دامام تابع دی اوپه قرآئت کی دی امام دمتقدیانو رعایت ساتی (۲). که چیری امام غزلی اوری اوددروغو شاهدی ورکوی، نوهغه فاسق دی، په هغه پسی لمونځ مکروه کیږی، خولمونځ صحیح کیږی ځکه چی په حدیث شریف کی دی. صَلُّوا خلف کل بر وفاجر. او فقهاوو دالیکلی دی چی فاسق امام معزوله کول پکاردی. (۳) ولی چی په صالح امام پسی په لمونځ کولو کی زیات ثواب وی.

دخلاف مسلک امام اقتداء: (۴) **سوال**: (۹۲۶) زید په جماعت کی شریك سو اودا معلومه نه وه چی دامام مذهب څه دی، په لمانځه کی معلومه سوه چی دامام مذهب دزید څخه خلاف دی، نواوس زید لمونځ وکړی اوکه لمونځ مات کړی؟

جواب: که چیری دزید مذهب مثلاً حنفی دی او دامام مذهب معلوم سو، چی شافعی دی یا مالکی دی، نودزید لمونځ په هغه پسی صحیح دی، دماتولو ضرورت نسته، بلکی دلمانځه ماتول په داسی حالت کی (۵) ممنوع دی.

---

(۱). واما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه (الى قوله) بل مشى فى شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفير

(۲). قال رسول الله ﷺ : اذا صلى احدكم للناس فليخفف فان فيهم الضعيف والسقيم والكبير واذا صلى لنفسه فليطول ماشاء (رد المحتار عن الصحيحين باب الامامة ص ۵۲۷ ج۱). ظفير

(۳). واما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه (الى قوله) بل مشى فى شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفير

(۴). ددې مسئلې زيات تفصيل دفتاوی دار العلوم ددې دريمی ۳ حصې په پای کی درج سوی رساله کی وګورئ.

(۵). ان تيقن المراعاة لم يكره (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۳).

دمحتاط حافظ قرآن نابینا امامت درست دی: **سوال**: (۹۲۷) زید نابینا دی، خومحتاط او دلمانځه اوروژی دمسائلو څخه په نسبت دنور قوم په ښه ډول خبر دی، اودقرآن حافظ دی، اوقوم ددین په مسائلو پیژندلو اودقرآن شریف په ویلو کی دده څخه کمتردی، په داسی صورة کی ددغه نابینا امام جوړول افضل دی اوکه نه؟

جواب: په داسی حالت کی دنابینا امام جوړول ښه دی کما فی الشامی عن البحر قید کراهة امام الاعمیٰ فی المحیط وغیره بان لایکون افضل القوم فان کان افضلهم فهو اولی (۱).

دهغه سړی دامامت څه حکم دی څوک چی ښځو ته دبی حیایی تلقین کوی: **سوال**: (۹۲۸) زید امام جوړول څنګه دی دچاچی دالاندینی احوال دی. زید ښځی لمسوی اودبی حیایی طرف ته یی رابولی، اومسلمانانو ته ښکنځل کوی اودشریعت سپکاوی کوی، څه حکم یی دی؟

جواب: دداسی مبتدعینو سره دصحبت اوورسره دکښېښستو څخه احتراز واجب او لازم دی اوهغه امام جوړول ممنوع او ناجائزدی هیڅکله هغه امام مه جوړوی ځکه چی فاسق امام جوړول حرام دی. (۲)

دمفسد صلوٰة غوندی غلطی کونکی امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۲۹) کم سړی چی په لمانځه کی داسی غلطی وکړی په کمی سره چی لمونځ فاسد سی په هغه پسی لمونځ صحیح دی اوکه نه؟ اوهغه امام جوړول څنګه دی؟

جواب: که چیری په لمانځه کی داسی غلطی وکړی په کمی سره چی لمونځ فاسد سی نو په هغه پسی لمونځ صحیح نه دی. ښه په هرحال کی همدادی چی امام داسی سړی جوړ سی څوك چی قرآن کریم صحیح وایی اودلمانځه دمسائلو څخه خبر وی اوصالح اود شریعت پابینده وی ولی چی په فاسق پسی لمونځ مکروه دی. اودقرآن کریم په غلط ویلو کی داتفصیل دی چی که چیری داسی غلطی وکړی کمه چی مفسد دصلوٰة وی نوهغه امام مه جوړوی په هغه پسی لمونځ صحیح نه دی، اوکه چیری داسی غلطی نه کوی کمه چی مفسد دصلوٰة وی نولمونځ صحیح کیږی خو ښه نه دی. (۳)

په بینک کی دروپی ایښوونکی امامت: **سوال**: (۹۳۰) کم سړی چی په بینك کی روپی داخلوی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟

---

(۱). رد المحتار باب الامامة ص **۵۳۲** ج۱ . ظفیر

(۲). بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا (رد المحتار ص **۵۲۳** ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۶۰**). ظفیر

[باقی]

جواب: دهغه امامت هم مکروه دی (۱). (خو په دی زمانه کی چی غلا، ډاکه عامه ده اود روپو دحفاظت ذریعه ماسوا دبینك څخه بله نسته. په بینك کی دحفاظت په غرض ایښوول درست دی اودهغه امامت هم درست دی. والله اعلم ظفیر)

بغیر پټکی امامت: **سوال**: (۹۳۱) مشهوره ده چی امام بی پټکی لمونځ ورکړی نومکروه کیږی. داصحیح ده اوکه غلطه ده؟

جواب: بغیر پټکی لمونځ نه مکروه کیږی لیکن په پټکی سره ښه اوافضل دی، ثواب ورسره زیاتیږی (۲).

دقادیانی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۳۲) کم خلگ چی دمرزا قادیانی مریدان وی یا هغه ښه گڼی دهغوی امامت جائزدی اوکه نه؟ په هغوی پسی داداء سوی لمونځ اعاده واجبه ده اوکه څنگه؟

جواب: جائز نه دی (۳).

کم سړی چی خلفاءِ ثلثه وو ته جاهل وایی هغه امام جوړول څنګه دی؟ سوال: (۸۳۳) بکر داوایی چی خلفاء ثلثه جاهلان وه هغوی به څه فیصله کوله، وغیره الفاظ وایی، دداسی سړی امامت څنگه دی؟

جواب: داسی عقیده لرونکی اونازیبا الفاظ ویونکی سخت عاصی اوفاسق دی اوظالم اوجاهل دی، دامامت قابل نه (۴) دی. والتفصیل فی الکتب.

(کم رافضی چی خلفاءِ ثلثه وو ته ښکنځل کوی هغه دبعضو فقهاوو په نزد کافردی او فاسق بالاتفاق دی، نقل فی البزازیة عن الخلاصة ان الرافضی اذا کان یسب الشیخین ویلعنهما فهو کافر. ردالمحتار باب المرتد ص ۴۰۵ ج۳. ظفیر).

په میلو کی دشریکیدونکی امامت درست دی او که نه ؟ سوال : (۹۳۴) یو سړی په میلو او

---

(۳). ولا غیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح (در مختار) ولکن الاحوط عدم الصحة (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۴ ج۱ ط.س. ج۱ ص ۵۸۱ ، مطلب فی الالثغ) ظفیر.

(۱). وکذا تکره خلف امرد، در المختار (الی قوله) واکل الربا وتمامه فی (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ۵۲۲). ظفیر

(۲). والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولوصلی فی ثوب واحد متوشحًا به جمیع بدنه الخ جاز من غیر کراهة (غنیة المستملی ص ۳۳۷) . ظفیر

(۳). وان انکر بعض ماعلم من الدین ضرورة کفر بها فلا یصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۱). ظفیر

(۴). اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه (ای قوله) بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

عرسونو کی شریکیږی، قوالی اوډولونه اوری اوپه جومات کی امامت هم کوی. آیاپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

په ږيره خريلي پسي تراويح درست دي اوکه نه؟ سوال: (۹۳۵) یوسړی ږیره خروی اود لمانځه اوروژی پابندی نه کوی اوتراویح ورکوی آیاپه هغه پسی تراویح درست دی او که نه؟

جواب: (۱) په دغه سړی پسی لمونځ مکروه دی، اودشامی دتصریح څخه معلومیږی چی مکروه دی. داهم شامی تصریح فرمایله دی چی دداسی امام معزوله کول واجب دی. ([1])

(۲) دغه سړی فاسق دی اودفاسق امامت چی څنګه په فرائضو کی مکروه تحریمی دی په تراویحو کی هم مکروه دی.

دجومات بي حرمتي کونکي او ددروغو شاهدي ورکونکي امامت درست دي اوکه نه؟ سوال: (۹۳۶) یوسړی قاضی دی اوهغه خپل آس دجومات په احاطه کی څروی، دهغه آس وقتًا فوقتًا دجومات په تالابو کی اوبه څښی اودجومات په صحن کی متیازی اوخاشنه کوی. دمنع کولو باوجود هغه قاضی دمسلمانانو سره ضد کوی اونه منع کیږی دحرام او حلال مال په استعمالولوکی سره دخبرتیا دریغ نه کوی. په مقدماتو کی ددروغو شاهدی ورکوی. داسی سړی دقاضی توب قابل دی اوکه نه؟ په ده پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی فاسق دی، په ده پسی لمونځ مکروه تحریمی دی اومعزول کول ددی امام لازم دی، اودی دقاضی جوړولو لائق نه دی.

کم سړي چي دخپلي لور واده کولو ته تيار نه وي، دهغه امامت څنګه دي؟ سوال: (۹۳۷) یو سړی دجومات امام دی، اودهغه لور بالغه ځوانه ده، هغه دهغې واده نه کوی، وایی چی زه به هیڅکله دانه واده کوم که څه هم دا دچا سره وتښتی هم. په ده پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په مشکوٰة شریف کی دابوسعید ﷺ اوابن عباسﷺ څخه منقول دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: من ولد له من ولد فلیحسن اسمه وادبه واذا بلغ فلیزوجه فان بلغ

([1]). دجومات دبی حرمتی څخه حضور ﷺ سختی سره منع فرمایلی ده، یوامام یو وار قبلی طرف ته توکلی وه نوحضور ﷺ هغه ته دامامت څخه دلیری کولو حکم ورکی. عن السائب بن خلاد - وهو رجل من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم أن رجلا أم قوما فبصق في القبلة ورسول الله صلى الله عليه وسلم ينظر فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم حين فرغ : "لا يصلي لكم" . فأراد بعد ذلك أن يصلي لهم فمنعوه وأخبروه بقول رسول الله صلى الله عليه وسلم فذكر ذلك لرسول الله صلى الله عليه وسلم فقال : نعم وحسبت أنه قال : "إنك آذيت الله ورسوله" . رواه أبو داود (مشکوٰة باب المساجد فصل ثالث ص ۷۱) هم دغه رکم ددروغو پرشاهدی باندی لوی وعیدونه راغلی دی. ظفیر الدین غفرله

ولم يزوجه فاصاب اثما فانما اثمه علي ابيه. ([1])

اوپه بل روايت کی عمرؓ بن الخطاب اوانس بن مالك ؓ درسول الله ﷺ څخه روايت کوی چی هغوی فرمايلی دی: په تورات کی ليکل سوی دی چی دچالور ددولسو کالو سوه اوهغه دهغې نکاح ونه کړه، اوهغه گناه ته ورسيده، نودغه گناه دهغې پرپلار باندی ده. ([2]) ددی احاديثو څخه معلومه سوه چی انجلۍ کله بالغه سی اودنکاح مناسب موقع پيداسی نوضروری دی چی دهغه په واده کولو کی تاخير ونه کړی. اوداسی اراده کول چی هيڅکله به ددی نکاح نه کوم، بددی اودخدای ﷻ اورسول الله ﷺ دحکم څخه خلاف دی، پکارده چی ددی ارادی څخه منع سی اودهغې نکاح وکړی خاصکر دجومات امام ته دشريعت داتباع زيات خيال ساتل پکاردی اودبدخيال څخه توبه کول پکاردی، لمونځ په هغه پسی صحيح دی.

که خائن، بې لمانځه داخترونو امامت کوی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۳۸) زيد دپنځه وخته لمونځونو پايبنده اوعادی نه دی شايد چی کله به يی کوی خودجدی حق دموروثيت په وجه داخترونو لمونځ ورکوی اوغلط يې هم وايی اوديندارہ نه دی، په امانت کی خيانت کوی، نوپه داسی امام پسی لمونځ کول څنگه دی، اوداسی امام موقوف کول په لمانځه گذارو باندی واجب دی اوکه نه؟

جواب: په حديث شريك کی دی صلوا خلف کل بر وفاجر، يعنی لمونځ کوی په هريو نيك اوبدپسی. داهل سنت والجماعت عقيده ده اودامام ابوحنيفه رحمه الله مسلك دی چی لمونځ په فاجر اوفاسق پسی کيږی. البته په فاسق پسی لمونځ مکروه دی. ليکن که چيری په هغه پسی په لمونځ نه کولوکی فتنه وی نوپه هغه پسی يی کوی، فتنه مه پورته کوی. قال الله تعالی. والفتنة اشد من القتل. ([3])

څوک چی دناجائز زور څخه دخلاصيدلو کوشش کوی دهغه امامت څنگه دی؟ سوال: (۹۳۹) دجومات پرامام باندی ددروغو يوه مقدمه ډگری سويده، مولوی صاحب دجومات امام دخپل عزت دخلاصولو دپاره په عدالت کی داعرض وکی چی زه دډگری سوو روپو داداء کولو څخه قاصريم. په دی صورة کی مولوی صاحب پسی لمونځ درست

([1]). مشکوٰة کتاب النکاح باب الولی فی النکاح ص ۲۷۱ . ظفير

([2]). عن عمر بن الخطاب وأنس بن مالك ، عن رسول الله ﷺ يقول : في التوراة مكتوب: من بلغت ابنته اثنتي عشرة سنة فلم يزوجها فأصابت إثما فإثم ذلك عليه، رواهما البهقی فی شعب الايمان (مشکوٰة باب الولی فی النکاح ص ۲۷۱). ظفير

([3]). سورة البقرة رکوع ۲۴. ظفير

دی اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی صلوا خلف کل بر وفاجر. لمونځ کوی په هرنیك اوبد پسی. نولمونځ په دغه امام پسی صحیح دی. دومره ده چی ددروغو شاهدی ورکوونکی وغیره پسی لمونځ مکروه دی، اودظلم څخه دخلاصیدلو دپاره دروغ ویل درست دی نو دغه سړی چی ترڅو پوری مظلوم دی، فاسق به نه وی اوپه هغه پسی به لمونځ مکروه نه وی. (فقهاء لیکی الکذب مباح لاحیاءِ حقه ودفع الظلم عن نفسه. الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص **۳۷۷** ج **۵** ظفیر).

دغیر مطلقه ښځی سره دنکاح ترونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال: (**۹۴۰**) یوسړی چی دقاضی توب دوعده لرلو څخه علاوه دجومات امام هم دی، دیوداسی منکوحی چاته چی نه خپل خاوند طلاق ورکړی وو اونه بل څه ثبوت وو صرف دهغه دمور اوپلار په یوی پرچی لیکلو باندی چی: دضرورت په وخت به موږ کومك درکړو، دبل سړی سره یی نکاح وروتړله. آیا داسی سړی څوك چی په مذهبی معاملاتو کی دومره خبرتیا نه لری یا دقصده داسی جرأت کوی اوبغیر دڅه تحریك یاشاهدی دثبوت څخه دشریعت داحکامو څخه داسی خلاف کوی نو آیا داسی سړی دامامت لائق دی؟

جواب: که چیری فی الواقع ذکرسوی امام دبل چا دمنکوحی نکاح دخاوند دطلاق څخه بغیر په قصد سره دبل سړی سره تړلی وی نودی فاسق دی، دکبیری مرتکب ([1]) سو. لهٰذا په ده پسی لمونځ مکروه تحریمی دی اوداسړی دامامت لائق نه دی ترڅو پوری چی توبه ونه کاږی. ([2])

درشوت خور اودرواغجن دامامت څه حکم دی؟ سوال: (**۹۴۱**) زید دخپل وس تربریده پوری رشوت خور اوکذاب دی. دپنځه وخته لمونځ ډیر محافظ نه دی، بی وجهی یی پریږدی اوددین دبزرګانو په شان کی دبی ادبی کلمات وایی دهغه دامامت متعلق څه حکم دی؟

جواب: قال فی رد المحتار: وَأَمَّا الْفَاسِقُ فَقَدْ عَلَّلُوا كَرَاهَةَ تَقْدِيمِهِ بِأَنَّهُ لَا يُهْتَمُّ لِأَمْرِ دِينِهِ ، وَبِأَنَّ فِي تَقْدِيمِهِ لِلْإِمَامَةِ تَعْظِيمَهُ ، وَقَدْ وَجَبَ عَلَيْهِمْ إهَانَتُهُ شَرْعًا ، وَلَا يَخْفَى أَنَّهُ إذَا كَانَ أَعْلَمَ مِنْ غَيْرِهِ لَا تَزُولُ الْعِلَّةُ ، فَإِنَّهُ لَا يُؤْمَنُ أَنْ يُصَلِّيَ بِهِمْ بِغَيْرِ طَهَارَةٍ فَهُوَ كَالْمُبْتَدِعِ تُكْرَهُ إمَامَتُهُ بِكُلِّ حَالٍ بل مشى فى شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم لماذكرنا وقال لذا لم يجز الصلٰوة خلفه اصلاً عند مالك ورواية عن ([3]) احمد. **جلد اول**

([1]). وامانکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ لم یقل احد بجوازه (ردالمحتار باب المهر ص **۴۸۲** ج۲) . ظفیر

([2]). اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه الخ. واجب علیهم اهانته شرعًا (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** - **۵۶۰**). ظفیر

شامی ص ۳۷۷. باب الامامة (معلومه سوه چی دده امامت مکروه تحریمی دی، ظفیر).

داستاذ په موجودګی کی دشا ګرد امامت درست دی: **سوال**: (۹۴۲) چی دامام زوی نابالغ او دمحلی خلګ دهغه دپلار دوفات څخه وروسته بل څوك امام جوړ کړی اودغه هلك ددین علم دزده کولو دپاره ولاړسی، بیا علم حاصل کړی بیرته راسی اوهغه امام ثانی ډیر کبیره ګناهونه کړی وی اوخلګو هغه معزوله کی خو ولانه ړی لمونځ به یی ورکوی. اوس خلګ غواړی چی په وجه داستحقاق داول اوفسق دثانی امام معزوله سوی، هغه معزول کړی او (دغه صاحب علم) هلك خپل امام جوړکی. که چیری معزول ووایی چی داهلك زما شاګرد دی، چی زماپر ځای ودریږی اولمونځ ورکوی نودده لمونځ به جائزنه وی. داځنګه ده که چیری معزول ددی عالم هلك څخه څه شرعی مسائل زده کړل نودده شاګرد جوړیدی سی اوکه نه؟

جواب: قوم ته اختیاردی چی دوهم امام معزول کړی اودمخکی امام زوی کم چی اوس بالغ سوی دی اواوس عالم دی، امام جوړ کړی، په دی کی په قوم باندی هیڅ مؤاخذه نسته بلکی داکار ددوی شرعًا مستحسن دی، ددغه هلك استحقاق که څه هم دپلار دامام کیدو په وجهی سره نه دی لیکن دعلم په وجه قوم دی امام جوړولی سی (۱). اود معزول هغه قول غلط دی. اودچا څخه چی شرعی مسائل زده سی هغه استاذ دی.

دزانی اوبدعتی امامت جائزنه دی: **سوال**: (۹۴۳) دجومات امام عرس ته تلل اوپه قبر باندی طواف کول اوشرکیه کلمات حلال ګنی په دی وجه لمونځ ګذار ځینی ناراضه دی. آیا دداسی سړی امام جوړول جائزدی اوکه نه؟ اوددغه امام یوه مشرکه ښځه غیرمنکوحه هم ساتلی ده.

جواب: دبی تحقیقه خبری خو اعتبار نسته لیکن په عرس وغیره کی شریکیدل اوپه قبر باندی طواف کول اومچول حرام اوبدعتی کارونه دی خصوصًا دقبر طواف کول کفر دی ځکه چی داعبادت خاص دبیت الله سره مخصوص دی، لهٰذا دلمانځه ګذارو ناراضی په ځای اوپه موقعه ده، په دی حالت کی هغه امام جوړول جائز نه دی اوپه هغه پسی به لمونځ نه صحیح کیږی (۲).

---

(۳). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

(۱). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷) ظفیر

(۲). ولا یمسح القبر ولایقبله فان ذالك من عادة النصارٰی الخ (عالمګیری کتاب الکراهیة الباب السادس ص ۳۲۲ ج۵ ، ط. م. ج۵ ص ۳۵۱) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه =

چې څوک بزه حلالوي دهغه امامت: **سوال**: (۹۴۴) يوسړى دجومات امام دى اودلمونځ دمسائلو څخه خبر دى ليکن بزه وغيره حلالوي. بعضې خلګ دهغه په امامت پسې دذابح کيدلو په وجه اعتراض کوي، دداسې امام امامت جائز دى اوکه نه؟

جواب: ذابح کيدل ديوسړى مانع دهغه دامام کيدلو نه دى (۱) دامامت دپاره زيات حقدار اعلم باحکام الصلوة دى کمافى کتب الفقه. نوکله چې ذکر سوى سړى دلمونځ اوروژى دمسائلو څخه خبر دى نوامامت دهغه جائز دى بلکې دهغه څخه زيات اعلم که نه وي نو افضل اوښه دى، اوذابح کيدل دهغه موجب دکراهت دامامت نه دى. دامامت په کراهت کې چې فقهاوو کم اسباب شمار کړى دى په هغه کې ذابح کيدل چانه دى ليکلى.

دتاجر عالم اوحافظ امامت جائزدى اوکه نه؟ **سوال**: (۹۴۵) چې څوک عالم ياحافظ دتجارت کسب کوي، نوآيا په هغه پسې به لمونځ صحيح کيږي؟

جواب: دغه عالم ياحافظ دتجارت کاسب لمونځ ورکولى سى اولمونځ په هغه پسې صحيح دى. په فرض لمونځ اوجمعه ټولو کې هغه امام کيدى سى (۲).

په فقير پسې لمونځ درست دى اوکه نه؟ **سوال**: (۹۴۶) يو لوستى سړى دى. لمونځ هم کوي، دفقير قوم څخه دى اوحيوان حلالوي اودسرسايې اوزکوٰة مال خوري اودجومات خدمت هم کوي اوددى ځاى خلګ دنامه مسلمانان دى. اکثره دهندوانو رواجونه کوي. که چيرى په دغه سړى پسې هغه خلګ لمونځ کوي نوجائزدى اوکه نه؟

جواب: په دغه سړى پسې لمونځ درست دى لمونځ دى ورکوي اودغه جاهلان دى پوهوي چې کرار کرار دکفارو رواجونه (۳) پريږدي.

چاچې په شيعه ګانو کې واده کړى وي دهغه امامت درست دى اوکه نه؟ **سوال**: (۹۴۷) کم سړى چې په شيعه ګانو کې واده کړى وي په هغه پسې لمونځ درست دى اوکه نه؟

جواب: که چيرى هغه سنى وي اومبتدع اوفاسق نه وي نولمونځ په هغه پسې کيږي.

دمرثيه خوان تعزيې والا امامت څنګه دى؟ **سوال**: (۹۴۸) څوک چې په محرم کې دتعزيې مخ ته کښيني اومرثيه خواني کوي په هغه پسې دسنيانو لمونځ درست دى اوکه نه؟

= کراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفير

(۱). ځکه چې ذبح جائزده، برابره خبره که په اجرت وي اوکه بغير اجرته، لهٰذا داپيشه درسته سوه. ويجوز الاستيجار على الذكاة لانه المقصود منها قطع الاوداج دون افاتة الروح الخ (عالمگيرى مصرى كتاب الاجارة باب سادس متفرقات ص ۴۳۸ ج۴ ، ط. م. ج ۴ ص ۴۵۴) ظفير.

(۲). تجارت جائز کسب دى. ارشاد ربانى دى احل الله البيع وحرم الربوا (بقره. ۳۸). ظفير

(۳). والاحق بالامامة الاعلم باحكام الصلوة فقط صحة وفساداً بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفير

جواب: په هغه پسی لمونځ مکروه دی. داسی فاسق اومبتدع دی امام جوړنه سی ([1]).

صرف دښځی په وینا باندی چی څوک نکاح وتړی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۴۹) که چیری یوسړی دښځی په قسمی بیان سره چی زه کونډه یم، دتحقیق کولو څخه بغیر نکاح وتړی نوپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: درست دی. (ځکه چی په دی سلسله کی دښځی په بیان باندی اعتماد کول جائز دی. ظفیر) ([2])

دسود قرض اخستونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۵۰) کم سړی چی امام وی، هغه دخپل نور کار یعنی تجارت وغیره دپاره پیسی په سود باندی اخلی اوکار کوی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: په سود باندی قرض اخستونکی دحدیث موافق دلعنت مستحق او فاسق دی، او دفاسق امامت مکروه تحریمی دی، کما حققه فی الشامی ([3]). باب الامامة جلد اول. فقط

دفاضل لمونځ په مضفول پسی درست دی: سوال: (۹۵۱) که چیری په دوو کسانو کی ذاتی نقیض وی نو دمفضول لمونځ په فاضل پسی کیږی اوکه نه ؟

جواب: لمونځ صحیح دی او داِعادې (راګرځولو) ضرورت یی نسته.

دامامت حق چاته حاصل دی؟ سوال: (۹۵۳) که چیری یو سړی په یوجومات باندی خپل حق ثابتوی اووایی چی داوو کالو څخه داجومات زما په قبضه کی دی، زماپلار او ورور به په دی جومات کی لمونځ ورکوی، دهغوی څخه وروسته زه لمونځ ورکوم. لهٰذا زما څخه ماسوا هیچاته په دی جومات کی حق نسته. نوپه دی جومات کی واقعی ددی امام حق دی، اوپه دی امام پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: دامام مقررول دجومات دبانی په اختیار کی دی یا دمَحلې دخلګو په اختیار کی دی. دیوامام دوراثت هیڅ حق نسته اوکه چیری هغه بانی نه وی نو دادعوٰی دهغه غلطه ده چی زما پلار یاورور په دی جومات کی امام پاته سوی دی. البته که چیری دمحلی خلګ دهغه په امامت باندی راضی وی او هغه د امامت لائق وی نو دهغه امامت صحیح

([1]). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا یکفر بها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰) ظفیر.

([2]). وحل نکاح من قالت طلقنی زوجنی وانقضت عدتی اوکنت امة لفلان واعتقنی ان وقع فی قلبه صدقها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص۳۷۱ ج۵ ، ط.س. ج۲ ص ۴۲۰). ظفیر

([3]). وکذا تکره خلف امرد الخ واکل الربوا ونمام ومراءٍ متصنع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

دی اولمونځ ورپسی (۱) درست دی. فقط

دفتنی اچونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۹۵۳) داسی مفسد سړی څوك چی په مسلمانانو کی جګړی جوړوی اوغلطی مسئله ښیی، امام جوړول یی جائزدی اوکه نه؟

جواب: داسی مفسد دی امام جوړ نه سی (۲).

څوک چی نه مقلدوی اونه غیر مقلد دهغه امامت څنګه دی؟ سوال: (۹۵۴) زید ځانته حنفی وایی، اوبعضی وخت دغیر مقلدو سره سی اودفاتحه خلف الامام اودغیر مقلدو دېرو مسائلو معتقددی. غرض داچی نه پوره حنفی دی اونه پوره غیر مقلد دی اودلسو ۱۰ اتو ۸ کالو راهیسی دهغه په کورکی یوځوان هلك اوسیږی دهغه ښځه ددغه هلك څخه پرده نه کوی اوخلګ یی دهغه سره متهم کوی، داسی سړی امام جوړول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی دامام جوړولو لائق نه دی، دی دي امام مقررنه سی (۳). فقط

ددرواغجن امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۵۵) یو سړی ځانته مولوی وایی، او وایی چی زه حاجی یم. په تحقیق سره معلومه سوه چی ده هیڅکله هم حج نه دی کړی، کله چی دی دجومات په نوم سره چنده وصولوی، اوخوری یی. ددی کارونو څخه توبه کښل هم وغوښتل سوه ورڅخه ، لیکن بیا هم منع نه سو ، اوخلګوته وایی چی په ما پسی لمونځ په جمعه کوئ، آیا په داسی سړی پسی لمونځ صحیح دی ؟

جواب: داسی سړی کم چی په دینی کارونو کی صریح دروغ وایی یاپه دهوکی ورکولو سره دجومات په نوم باندی چنده وصولوی اوپخپله یی خوری فاسق او کذاب دی، په هغه پسی دجمع اوپنځه وخته لمونځ مکروه دی یعنی لمونځ کیږی خوداسی سړی عمداً امام جوړول نه دی پکار (۴). فقط

دمسائلو څخه دناخبره غیر دیندار امامت څنګه دی: سوال: (۹۵۶) یوسړی زموږ په جومات

---

(۱). ولایة الاذان والاقامة لبانی المسجد مطلقا وکذا الامامة لو عدلا (درمختار) وفی الاشباه اولاد البانی وعشیرته اولی من غیرهم اهـ وسیجیئ فی الوقف ان القوم اذا عینوا مؤذنا واماما وکان اصلح مما نصبه البانی فهو اولی (رد المحتار ص ۳۷۲ ج۱ باب الاذان ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۰). ظفیر

(۲). ځکه چی دی فاسق سو اودَفاسق امامت مکروه دی ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰) ظفیر.

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) لعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربوا اونحو ذالك (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰). ظفیر

(۴). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربوا ونحو ذالك (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰). ظفیر

کی امام مقرردی لیکن څه دیندار سړی نه دی اونه داودس اولمونځ اوامامت دمسائلو څخه پوره خبر دی اونه قرآن کریم صحیح وایی اوپه لمونځ کی په امیر اوغریب کی فرق کوی یعنی دامیرانو په انتظار کی ناوخته کوی اوغریبان سپك ګڼی اودتمباکو دوکان هم کوی په دی وجه جامی یی هم خرابی وی. نوداسی سړی امام جوړول درست دی اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی صلوا خلف کل بر وفاجر، الحدیث. (۱) یعنی په هرنیك او بد پسی لمونځ کوی اودفقهاوو دتصریحاتو څخه معلومیږی چی په هر نیك اوبد پسی لمونځ کیږی لیکن دامامت دپاره ښه هغه سړی دی، څوك چی دلمانځه دمسائلوڅخه خبر وی اوقرآن شریف صحیح وایی، دشرعی منهیاتو څخه منع اوسی، اومتقی او پرهیزګار وی (۲). نو حتی الوسع داسی امام مقررکی، اوترڅو پوری چی داسی څوك وه نه وینی په همدی موجوده امام پسی لمونځ کوی ځکه چی لمونځ په ده پسی هم صحیح کیږی، اوکم افعال اواقوال چی دشریعت څخه خلاف دده څخه صادر سوی وی دهغه څخه توبه باندی وکاږئ. فقط

کم امام چی جاهلانه جواب ورکوی دهغه امامت څنګه دی؟ سوال: (۹۵۷) کله چی موزید ته سهار داخبره وکړه چی ماښام تا دروازه ولی خلاصه نه کړه، نوزید په درد کی جواب راکی چی لمونځ کول په جومات کی منحصر نه دی کورکی به دی کړی وای. اوچی کله موزید ته هغه حدیث ووایه په کم کی چی دا ارشاد دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی که چیری ماته دخپل امت خیال نه وای نومابه حکم کړی وای چی کم خلګ سره دتندرست والی په جومات کی لمونځ نه کوی اوپه کورونو کی لمونځ کوی دهغوی کورونو ته اور ولګوی، زید وویل چی داسی حدیثونه ډیر دی زه یی نه اورم ! په داسی سړی پسی لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

جواب: دزید جواب جاهلانه دی، داسی سړی دامام جوړولو لائق نه دی، که چیری هغه توبه ونه کاږی نولمونځ ورپسی مه کوی. (۳)

دخود غرضه امام امامت څنګه دی؟ سوال: (۹۵۸) دزید کار چی په چا کیږی، دهغه خاطر ساتی اوچی په چا یی کار نه کیږی (یعنی فائده یی نه وی ورته) دهغه سره حسد کوی. په داسی سړی پسی لمونځ کول څنګه دی؟

---

(۱). غنیة المستملی ص ۳۵۱ . ظفیر

(۲). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۳). التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوة باب التوبة ص ۲۰۲) . ظفیر

جواب: داسی سړی هم دامام جوړولو لائق نه دی (١).

دزانی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۵۹) دجومات یوامام دیوسړی منکوحه ښځه وتښتوله اودهغې سره یی زنا وکړه او ولد الزنا هم ځینی پیداسو. په همدی بنا باندی خلګ هغه ډیر بد اومکروه ګڼی. داسی سړی ته امامت کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی ولوأم قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه اولانهم احق منه بالامامة کره له ذلك تحریمًا لحدیث ابی داود لایقبل الله صلوٰة من تقدم قومًا وهم له کارهون. الخ. (٢) ددی عبارت څخه واضحه ده چی په صورة مسئوله کی دی بدکارزانی سړی ته امام کیدل مکروه تحریمی دی اودده هیڅ حق په امامت کی نسته.

چاچی شیعه ته خپله لور ورواده کړه دهغه دامامت څه حکم دی؟ سوال: (۹۲۰) زید حنفی خپله لور په قصد سره شیعه ته واده کړیده اودشیعه ګانو په مجلسونو کی شریکیږی دهغه دامامت څه حکم دی؟

جواب: داکار دهغه بددی. اودروافضو په مجلسونوکی شاملیدل درفض علامه ده، داسی سړی امام جوړول نه دی (٣) پکار.

دفاتحه خلف الامام په قائل پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟ سوال: (۹۲۱) کم سړی چی په امام پسی دفاتحی ویلو قائل وی په هغه پسی حنفیانو ته شرعًا لمونځ کول ممنوع دی نو اکثره داحنافو علماء اوصوفیاءِ کرام څوك چی دقرآئت خلف الامام قائل وه، دهغوی اقتداء هم جائز وه اوکه نه ؟

جواب: په امام پسی فاتحه شوافع هم وایی اوضروری یی ګڼی، دهغوی اقتداء هیڅ حنفی نه منع کوی، جګړه ټوله پرتقلیدنه کولو باندی ده، چونکی تقلید نه کونکی ډله، یاداسی وایه چی دامامانو تقلید کونکو ته دمشرك خطاب ورکونکی ډلی، په اعتبار دعقائدو

---

(١). امام ته متقی، دیندار کیدل پکاردی. والاحق بالامامة تقدیما بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوٰة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (درمختار) کذافی الدرایة وعبارة الکافی وغیره الاعلم بالسنة اولی الا ان یطعن علیه فی دینه لان الناس لا یرغبون فی الاقتداء به (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۱۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۲ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفیر

(٣). ویکره امامة عبد ... وفاسق (درمختار) فاسق من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربا ونحو ذلك الخ وفی المعراج قال اصحابنا لا ینبغی ان یقتدی بالفاسق ... اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانة شرعًا الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۲۰). ظفیر

سره داهل سنت والجماعت دطریقی څخه لیری په نظر راځی اوپه ټولو سلفو صالحینو خصوصًا پرامام همام ابوحنیفه ﷺ باندی ځوك چی په بشارت د: والسابقون الاولون من المهاجرین والانصار والذین اتبعوهم باحسان، الآیة کی یقینًا داخل دی په هغوی باندی طعن کول یی خپل دین جوړ کړی دی. په دی وجه علماء احناف احوط ګڼی چی غیر مقلد دی امام جوړنه سی. کاشکی که دغه سړی شافعی سوی وای اوقرآئة خلف الامام یی کولی اوپه خپل ځان مجتهد ګڼلو سره په خطاء کی نه پریوتلی نوهیڅ اعتراض اواحتراز به نه وای. (١) فقط

دتعزیه لرونکی بدعتی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۲۲) یوسړی بدعتی دی اوتعزیه لرونکی دی اودا سړی دهغه بزی غوښه کمه چی پرقبر باندی (دمننی په طور) حلالیږی بی تکلفه خوری، داسی سړی دجومات امام جوړ کړو اوکه نه؟ اوپه هغه پسی به لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: داسی بدعتی تعزیه پرست امام جوړول درست نه دی. ولی چی په هغه پسی لمونځ کول مکروه تحریمی دی اوپه شامی کی دی چی دفاسق په امام جوړولو کی دهغه تعظیم کیږی اوتعظیم دفاسق حرام دی اوظاهره ده، چی بدعتی فاسق دی (٢). فقط

صرف په اوبو سره داستنجا کونکی امامت څنګه دی؟ سوال: (۹۲۳) که چیری یوسړی په لوټه سره اودس نه وچوی بلکی صرف په اوبو سره استنجاء وهی دهغه دامامت څه حکم دی؟

جواب: امامت دهغه صحیح دی. دفقهی په کتابونو کی دی چی صرف په اوبو یا صرف په لوټی سره په استنجاء کولو سره هم داستنجاء سنت حاصلیږی لیکن افضل اوښه دادی چی په لوټی اواوبو دواړو سره استنجاء ووهی، په شامی کی دی: ثم اعلم ان الجمع بین الماء والحجر افضل ویلیه فی الفضل الاقتصار علی الماء ویلیه الاقتصار علی الحجر وتحصیل السنة بالکل الخ (٣). فقط

دتاش (یوقسم دپاڼو لوبه) **کونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال**: (۹۲۴) که چیری دجومات امام دتاش کونکو سره ناست اوسی یا دلوبی طریقه ورته ښیی نوڅه حکم دی،

---

(١). زاد ابن ملك ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعاة لم یکره (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲) ظفیر.

(٢). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة (درمختار) واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه الخ وقد وجب اهانته شرعا الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

(٣). ردالمحتار فصل فی الاستنجاء ص ۳۱۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۳۸ . ظفیر

او امامت دهغه څنګه دی؟

جواب: په درمختار کی دی وکره تحریمًا اللعب بالنرد وکذا الشطرنج، (۱) الخ. نوکله چی دشطرنج لوبه حرامه سوه نودهغه تعلیم ورکول اوښوول ښکاره ده چی حرام دی او ددغه لوبیدونکو سره کښېنستل اوورته کتل هم حرام دی. پس امامت دهغه مکروه دی (۲).

دفحش ګو او نقال امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۲۵) زید همیشه فحش عبثیات وایی بلکی کله په جومات کی دننه هم فحش الفاظ استعمالوی، اوښکنځل هم کوی او غیبت کوی او دنورو لمونځ ګذارو دلمانځه دنیت نقلونه کوی چی په هغه سره لمونځ ګذارو ته په لمانځه کی خندا ورځی، اوبعضی وخت په لمانځه کی خاندی. آیا داسړی دامامت قابل دی اوکه نه؟

جواب: لمونځ په هغه پسی اداء کیږی لقوله ﷺ صلوا خلف کا بر وفاجر. لیکن په امامت سره اولی اوالیق هغه سړی دی چی داعلم اواقرأ کیدلو سره صالح اومتقی وی. ولی چی په فاسق پسی لمونځ که څه هم صحیح دی خومکروه تحریمی دی. اوپه شامی کی دی چی فاسق امام مقررول ممنوع دی ولی چی په امام جوړولو کی دهغه تعظیم دی اوتعظیم دفاسق ممنوع (۳) دی. فقط

دبدعتی دامامت څه حکم دی؟ سوال: (۹۲۶) کم سړی چی بالکل جاهل وی اوقرآن مجید ماسوا دیوڅو سورتونو څخه پوره نسی ویلی، اوقبر پرستی ښه ګنی. رسول الله ﷺ ته عالم الغیب اوحافظ اوناظر وایی، بلکی علی الاعلان وایی چی په الله ﷻ اورسول ﷺ کی هیڅ تمیز (یعنی فرق) نسته. په نڅا، رقص وغیره کی شاملیږی، دی امام جوړول جائز دی اوکه څه حکم دی ؟

جواب: داسی سړی دامام جوړولو لائق نه دی، امام جوړول دده حرام دی او دامامت څخه معزله کول دده لازم دی. ټولو مسلمانانو ته پکاردی چی اتفاق دی وکړی اودی دي دامامت (۴) څخه لیری کړی. اویو بل عالم اوصالح اومتقی دی امام جوړ کړی. فقط

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص ۳۴۷ ج۵ ، ط.س. ج۱ ص ۳۹۴. ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰) ظفیر.

(۳). واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانة شرعًا ولا یخفی انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول العلة فانه لایؤمن ان یصلی بهم بغیر طهارة فهو کالمبتدع تکره امامته بکل حال، بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا قال ولذا لم تجز الصلاة خلفه اصلا عند مالك وروایة عن احمد (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

دږیری خریلی امامت جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۶۷) کم مسلمانان چی ږیره خروی یا دیو موټی څخه کم یی لنډوی په هغوی پسی لمونځ جائزدی، اوکه نه؟

جواب: کم مسلمانان چی ږیره خروی یا دیوموټ څخه کم یی لنډوی هغوی فاسقان دی، په هغوی پسی لمونځ مکروه دی ([1]).

دهندو تهذیب اختیارونکی امامت: **سوال**: (۹۶۸) که چیری یو مسلمان دهندوانو داسی نوکری کوی چی هندوان دعبادت دپاره دبت ځای ته رسوی اوخپل شکل دهندوانو په شان ساتی، دپاره ددی چی هندوان یی دنوکری څخه لیری نه کړی په داسی سړی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: کم مسلمان چی داسی کار کوی هغه فاسق دی اوسخت ګنهګاردی، اودا کار ښه ګڼونکی هم فاسق دی، لائق دامام جوړولو نه دی. ([2]) فقط

دتعزیه لرونکی اوتورو نکریزو لګونکی امامت: **سوال**: (۹۶۹) په تعزیه لرونکی او تور خضاب لګوونکی پسی دلمانځه څه حکم دی؟

جواب: تعزیه لرونکی فاسق دی په هغه پسی لمونځ مکروه کیږی اوتور خضاب ته بعضو فقهاوو جائز فرمایلی دی اوبعضو مکروه. اوهمدا (قول) صحیح ([3]) دی. لهٰذا دتور خضاب لګونکی امام جوړول ښه نه دی که څه هم لمونځ پسی صحیح کیږی.

دچاپه کورکی چی غلط رسمونه کیږی اوهغوی یی نه منع کوی دهغوی امامت: **سوال**: (۹۷۰) دډیرو خلګو کره په واده اوښادی کی دکور ښځی ډولکی ږغوی، سندری وایی، اودنورو کورونو ښځی ورکره راسی اوپه یوځای سندری وایی، دهغوی نارینه هغوی ددی کارڅخه نه منع کوی په هغوی پسی لمونځ کول څنګه دی ډیرخلګ دصفر دمیاشتی اولنۍ دیارلس ورځی ، دوولسم ، او دریم ، او دیارلسم ، او اتم، او اتلسم، او اته ویشتم

([4]). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ای صاحب بدعة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) وکراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰) ولاباس بنتف الشیب واخذ اطراف اللحیة والسنة فیها القبضه الخ ولذا قال یحرم علی الرجل قطع لحیته (الدر المختار علی هامش ردالمحتار. کتاب الحظر والاباحة ص ۳۵۹ ج ۵ ، ط.س. ج ۲ ص ۴۰۷). ظفیر

([2]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) وکراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار ص ۵۲۳ ج۱ باب الامامة ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰). ظفیر

([3]). ویستحب للرجل خضاب شعره ولحیته ولو فی غیر حرب فی الاصح والاصح انه ﷺ والصلوة لم یفعله ویکره بالسواد وقیل لا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة باب فی البیع ص ۳۷۲ ج ۵ ، ط. س. ج ۲ ص ۴۲۲). ظفیر

تاریخ سپیره (بد) گڼي، په دی تاریخونو کی واده ښادی نه کوی. په داسی خلگو پسی دلمانځه څه حکم دی؟

جواب: کم خلگ چی خپلی ښځی دذکر سوو کارونو څخه نه منع کوی هغوی گنهگاردی دهغو امام جوړول ښه نه دی که څه هم لمونځ پسی صحیح کیږی. اوکم خلگ چی ذکر سوی تاریخونه سپیره گڼي اوپه دغه تاریخونو کی نکاح وغیره نه کوی دابی اصله خبره ده ټولی ورځی اوتاریخونه مبارك دی اوداسی بده عقیده لرونکی دامام جوړولو لائق نه دی ([1]). فقط

دبدکار اوفاسق امامت مکروه تحریمی دی: **سوال**: (۹۷۱) څوك چی ولد الزنا وی، فاسق وی، اودهلکانو سره په ناجائزکار کی نیول سوی وی. بدعتی جاهل وی، دجومات آمدن یی پخپله خوړلی وی وغیره. دداسی سړی دامامت څه حکم دی؟

جواب: دغه سړی دکم چی دغه افعال دی کم چی په سوال کی ذکرسوی دی، فاسق دی، لائق دامام جوړولو نه دی، په فاسق پسی لمونځ مکروه تحریمی اوتعظیم دفاسق حرام دی بلکی هغه واجب الاهانة دی، لهٰذا فاسق دی امام جوړ نه سی خصوصاً دائمی امام دی هیڅکله داسی سړی مقرر نه سی ([2]). فقط

دپلار په قرض کی مجبوراً دسود اداء کونکی امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۷۲) زما والد څه مزکه دگرو (هندو) سره گرو کړی وه، والد می وفات سو، اوزما سره روپی دهغه (مزکی) دخلاصولو دپاره نسته اومجبوره یم، اومجبوراً سود ورکوم، پرما باندی څه مؤاخذه سته اوکه نه؟ اوپه ما پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: چونکی ته مجبوره یی په دی وجه باندی مؤاخذه نسته اولمونځ په تا پسی بغیر دکراهته صحیح ([3]) دی. فقط

ددوه ویشت ۲۲ کلن کوسه امامت مکروه دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۷۳) یوسړی عاقل بالغ دشلو ۲۰ دوه ویشتو ۲۲ کالو عمر والا، دمسائلو وغیره څخه هم ښه خبرداردی، لیکن لا تر اوسه یی ږیره اوبریتونه راوتلی نه دی، دهغه دامامت درست دی اوکه نه؟

یو سړی وایی چی دده اذان او اقامت هم درست نه دی، دده شمار په ښځو کی دی، دصحاح سته په احادیثو کی مذکور دی چی که تر ډیر عمر پوری د چا ږیره بریت را ونه

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) وکراهة تقدیمه ای الفاسق کراهة تحریم (ردالمحتار ص **۵۲۳** ج۱ باب الامامة، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** - **۵۶۰**) ظفیر.

([2]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) وکراهة تقدیمه (ردالمحتار ص **۵۲۳** ج۱ باب الامامة). ظفیر

([3]). الضرورات تبیح المحذورات (الاشباه والنظائر ص ....). ظفیر.

وزی نو دامامت قابل کیدی نه سی. یایی څه حد مقرر دی. بینوا تؤجروا

جواب: ددغه سړی قول غلط دی. په بی ږیری، بی بریتو سړی پسی کله چی دهغه عمرشل ۲۰ دوه ویشت ۲۲ کاله وی اوهغه دلمانځه دمسائلو څخه هم خبر وی، لمونځ بغیر کراهته درست دی. په شامی اول جلد ص ۳۷۸ باب الامامة کی دی: سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الشَّيْخُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عِيسَى الْـمُرْشِدِيِّ عَنْ شَخْصٍ بَلَغَ مِنْ السِّنِّ عِشْرِينَ سَنَةً وَتَجَاوَزَ حَدَّ الْإِنْبَاتِ وَلَمْ يَنْبُتْ عِذَارُهُ الی ان قال : فَهَلْ حُكْمُهُ فِي الْإِمَامَةِ كَالرِّجَالِ الْكَامِلِينَ أَمْ لَا أَجَابَ : سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الشَّيْخُ أَحْمَدُ بن يونس ﷺ عَنْ مثل هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ فَأَجَابَ بِالْجَوَازِ مِنْ غَيْرِ كَرَاهَةٍ وناهيك به قدوة. (۱) فقط

څوک چی دمسائلو څخه ناخبره وی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۷۴) که چیری امام داسی سړی وی څوک چی دلمانځه داحکامو څخه پوره خبر نه وی بلکی دلمانځه مفسدات هم نه پیژنی، که چیری دهغه په موجودگی کی بل سړی لمونځ ورکی نودامام موصوف لمونځ گذاروته داویل چی زما داجازی څخه بغیر لمونځ نه سو صحیح څه حکم لری، اوپه داسی سړی پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: داقول چی زما اجازه نه وه، لهٰذا لمونځ نه سو صحیح، (۲) غلط دی. اودلمونځ دامامت دپاره اعلم بمسائل الصلوۃ زیات ښه اوحقدار دی لیکن لمونځ په غیرِعالم پسی هم صحیح دی په دی شرط چی دهغه څخه څه کار دلمونځ ماتونکی صادر سوی نه وی. (۳) فقط

دچاسره چی ملوّث وی دهغه اقتداء درسته ده اوکه نه؟ سوال: (۹۷۵) کریم اوګُلو دوه هلکان وه کریم دګلو سره اغلام وکی نودکریم لمونځ په ګلو پسی څوک چی دمسجد امام دی جائزدی اوکه نه؟

جواب: دکریم لمونځ په ګلو پسی صحیح دی.

دپټکی والاوو لمونځ په بی پټکی امام پسی صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۹۷۶) اگر مقتدیان همه یا بعض بعمامه و امام بی عمامه یا بالعکس نماز گذارند ، در وی چی نقص افتد؟

---

(۱). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲ . ظفیر

(۲). واعلم أن صاحب البيت ومثله إمام المسجد الراتب أولى بالامامة من غيره مطلقا إلا أن يكون معه سلطان أو قاض فيقدم عليه لعموم ولايتهما، وصرح الحدادي بتقديم الوالي على الراتب (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹). ظفير

(۳). والاحق بالامامة تقديما بل نصبًا الاعلم باحكام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة الخ (ایضًا ص ۵۲۰) ظفیر.

بینوا بالاحادیث الصحیحة تؤجروا بالنعماء العظیمه .

جواب: درآن نماز، هیچ نقص نیست درهر دوصورة. لحدیث: اوکلکم یجد ثوبین (۱) ، وفی شرح المنیة والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار، وقمیص وعمامة، ولو صلی فی ثوب واحد متوشحا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسیر وجود الطاهر الزاید ولکن فیه ترك الاستحباب الخ ص **۳۳۷**. فقط والله اعلم.

دخائن اوفاسق امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۷۷) دداسی سړی امامت دچا دولدالزنا کیدلو یقین چی کامل وی، فاسق فاجر جاهل بدعتی هم وی اوپه عدالت کی خائن هم ثابت سوی وی امامت یی جائزدی اوکه نه؟

جواب: دداسی ولد الزنا امامت دچاچی حال هغه دی کم چی په سوال کی درج دی مکروه دی اوچونکی علاوه دولد الزنا کیدلو څخه هغه فاسق هم دی، نودده امامت مکروهِ تحریمی دی اوداسی امام لائق دی دمعزول کولو، لکه چی علامه شامی تحریر فرمایلی دی: واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا الخ (۲) ص **۴۱۴** مصری، جلد اول شامی، وفی الدر المختار وولد الزنا الخ قوله وولد الزنا اذ لیس له اب یربیه ویود به ویعلمه فیغلب علیه الجهل بحر او لنفرة الناس عنه. شامی (۳) ص **۴۱۵** جلد ۱. فقط

دبدعتی په امامت کی یی چی کم لمونځ وکی آیا دهغه اعاده ضروری ده؟ سوال: (۹۷۸) حضرت اقدس مولانا اشرف علی صاحبؒ لیکلی دی چی په بدعتی پسی لمونځ کیږی. داعادی ضرورت یې نسته، خوحضرت مولانا رشید احمد صاحب نور الله مرقده مکروه تحریمی واجب الاعاده تحریر فرمایلی دی. لهٰذا داختلاف راتلو په صورة کی دی څه طرز عمل اختیار سی؟

جواب: په درمختار کی دی: وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة الخ اوپه شامی کی دی: قوله نال فضل الجماعة افاد ان الصلوٰة خلفهما اولی من الانفراد لکن لا ینال کما ینال خلف تقی ورع (۴) الخ. ددی عبارت څخه واضحه کیږی چی

(۱). داحدیث په دار قطنی کی دی حواله یې مخکی تیره سویده. ددی سلسلی نور هم ډیر حدیثونه دی، وګوری مشکوٰة باب الستر ص ۷۲ . ظفیر.

(۲). ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۳** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**. ظفیر

(۳). ردالمحتار. باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲**. ظفیر

(۴). ردالمحتار. باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲**. ظفیر

په بدعتی پسی لمونځ صحیح کیږی بلکی دیوازی لمونځ کولو څخه ښه دی. باقی چونکی په بدعتی بدعتی کی فرق وی. بعضی بدعات دکفر اوشرك حد ته رسیدلی وی، که چیری په داسی بدعتی پسی لمونځ وکړی نودهغه راګرځول ضروری دی، همدا صورة دتطبیق کیدی سی، یا چاچی داعادی حکم ورکړی دی، هغه به احتیاط وی، یا اختلاف روایات. اوپه بدعت فی العقیده کی هم ددرجاتو تفاوت دی ترڅو پوری چی دامعلومه نه وی چی دهغه عقیده دکفر حدته رسیدلی ده ترهغه وخته پوری به په هغه پسی دلمانځه دفساد حکم نسی کو کیدلی. کذا فی الدر المختار (١). فقط

څوک چی په هندوستان کی جمعه جائز نه ګڼی دهغه دجمعی امامت درست دی اوکه نه؟

سوال: (٩٧٩) یوسړی دی دجومات امام دی. داعقیده یی ده چی په هندوستان کی جمعه نه صحیح کیږی په دی وجه چی دبادشاه اودهغه دنائب شرط مفقود دی. اودټولو لمونځ ګذارو داعقیده ده، چی جمعه کیږی. نودلمونځ ګذارو دجمعی لمونځ په داسی امام پسی کیږی اوکه نه؟

جواب: صحیح داده چی دهندوستان په ښارو کی جمع صحیح ده. دمسلمان بادشاه شرط فقهاوو لیکلی دی چی (٢) ساقط دی. نو دذکر سوی امام عقیده غلطه ده اودهغه په داسی عقیده لرلو سره په جمعه کی څه فرق نه راځی ولی چی داعقیده دهغه غلطه ده. لهٰذا ددغه مقتدیانو کم چی دجمعی دلمانځه دفرضیت قائل دی په امام مذکور پسی لمونځ صحیح دی. فقط

ددروغو څخه دتوبه کولو څخه وروسته امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (٩٨٠) زید به خلګو ته دروغ ویل اودهوکه بازی به یی کوله، خواوس هغه توبه وکښله، اوخلګو هغه امام کړی دی. آیاپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی. التائب من الذنب کم لاذنب له (٣). نودتوبی څخه وروسته په هغه پسی لمونځ بی کراهته درست دی.

دکسب ګر سندر غاړی امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (٩٨١) په مطرب یعنی ډم پسی اقتداء جائزده اوکه نه؟ یعنی مراثی خوانده (مدحه خوان) که چیری امامت کوی نو شرعًا جائزدی اوکه نه؟

---

(١). وان انکر بعض ماعلم من الدین ضرورة کفر بها الخ فلا یصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٤ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٦١). ظفیر

(٢). فلو الولاة کفار ایجوز للمسلمین اقامة الجمعة (رد المحتار باب الجمعه ص ٧٥٤ ج١). ظفیر

(٣). مشکوة باب التوبه والاستغفار ص ٢٠٢ فصل ثالث . ظفیر

جواب: که چیری هغه دخپلې حرامې پیشې غناء اومزامیرو څخه توبه کښلې وی، نوپه هغه پسې لمونځ بې کراهته درست دی کنې مکروه ([1]) دی.

درقص اوسرود څخه دتوبه کونکې امامت درست دی: **سوال**: (۹۸۲) دجومات یوامام دی اکثر رقص اوسرود ته ځی، که چیری داسې سړی توبه وکاړی نوپه هغه پسې لمونځ کول به دکراهت څخه خالی وی اوکه نه؟

جواب: امام مذکور فاسق دی اوپه فاسق پسې لمونځ مکروه دی. که چیری هغه توبه وکاړی نوکراهت به لیری سی. لان التائب من الذنب کمن لاذنب له ([2]). فقط

دغلط ویونکی امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۸۳) زید دیوجومات امام دی، هغه حافظ نه دی، حرکتونه دومره اوږدوی، چې الف او واو هم په ښه شان ښکاره کیږی او دانّ پرځای چې انّا راسی نومعنی به یې بدله سی، دیضربون پرځای صفا یدربون وایی، تَطَّلِعُ یې یووار تَطَّلِیُ ووایه. په ث او ص او س کې ډیر کم فرق کوی او ددوی ددرست کولو کوشش نه کوی. په داسې سړی پسې په لمانځه کې څه کراهت سته اوکه نه؟

جواب: په دغه رکم قرآن کریم ویونکې پسې په لمونځ کولو کې دلمانځه دفساد اندیښنه ده، لهٰذا دی امام جوړول نه دی پکار، بل یوڅوك صحیح ویونکې دی امام مقرر سی ([3]). فقط

داجرت اخستونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۸۴) کم سړی چې محض داجرت په کموالی زیاتوالی باندې لمونځ ورکوی دهغه امامت څنګه دی؟

جواب: دامامت داجرت اخستلو پرجواز باندې فتوٰی ده، ددې دپاره په هغه باندې هیڅ اعتراض نسته ([4]). فقط

دغیر مقلد امامت جائز دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۸۵) اگر غیر مقلد امام شود درین حالت مذهب حنفیه اقتداء نماز کند روا باشد یانه ؟

جواب: فقهاء تصریح فرموده اند که اگر مخالف مذهب امام شود پس اگر مراعات خلاف کند نمازخلف اوصحیح است واگرمراعات خلاف نه کندپس اگرمرتکب مفسدصلوة شود

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) ولعل المراد به ای بالفاسق من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربا ونحو ذالك (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

([2]). مشکوٰة باب التوبه والاستغفار فصل ثالث ص ۲۰۲ . ظفیر

([3]). ولاغیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح الخ فلایؤم الامثله ولاتصح صلاته اذا امکنه الاقتداء بمن یحسنه (درمختار باب الامامة ط.س. ج۱ ص ۵۸۱ – ۵۸۲). ظفیر

([4]). ویفتی بصحتها (ای الاجارة) لتعلیم القرآن والفقه والامامة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاجارة الفاسدة ص ۴۲ ج۵ ، ط.س. ج۲ ص ۵۵). ظفیر

نماز خلف اودرست نیست (۱) واگر مرتکب مفسد نه شود مکروه است، قال فی الدر المختار وکذا تکره خلف امرأ سفیه الی ان قال ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعات لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره (۲). وتفصیله فی الشامی. بهر حال احتیاط درترك اقتداء است خصوصــا وقتیکه امام غیر مقلد باشد که از ارتکاب مفسدات ومکروهات امن نیست. فقط

دانګریزانو داشپزانو لمونځ اوامامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۸۶) دانګریزانو داشپزانو ځوك چی ډوډی پخوی، دخنزیر غوښه پخول اوخوړل پکښی وی، اوشراب تقسیموی، کله چی داخلګ داسی کار کوی نوددوی لمونځ وغیره قبلیږی اوکه نه؟

(۲) که چیری په دوی کی یو سړی دلمانځه ورکولو قابل وی نودهغه لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: (۱) چونکی دغه خلګ په اسلام کی داخل دی، ددی وجه لمونځ او روژه ددوی قبول دی، دګناه ځخه دی توبه کاږی.

(۲) امام جوړول داسی سړی مکروه دی لیکن لمونځ ورپسی دکراهت سره درست (۳) دی. فقط

ددین بزرګانو ته دکافر ویونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۸۷) کم سړی چی ددین حضراتو بزرګانوته کافر وایی اوځوك چی ورته کافر نه وایی هغه ته هم کافر وایی نو په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی من عادٰی لِی ولیًّا فقد اٰذنته بالحرب (۴) اوکما قال ﷺ. یعنی چاچی زما ددوست اوولی سره دښمنی وکړه، هغه ته زه دځپل جنګ خبرداری ورکوم. یعنی دهغه مقابله زما سره ده. نو ښکاره ده چی دکم مردود مقابله دالله ﷻ سره وی دهغه ټیکانه چیری ده ماسوا دجهنم ځخه. وقال ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفرٌ الحدیث (۵). نوپه داسی مردود پسی ځوك چی دربانی عالمانو اواولیاء الله توهین کوی

---

(۱). وزاد ابن ملك ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعاة لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰). ظفیر

(۴). مشکوٰة باب ذکر الله عز وجل ص ۱۹۷ . ظفیر

(۵). مشکوٰة باب حفظ اللسان والغیبة والشتم ص ۴۱۱ . ظفیر

اوهغوی ته کافر وایي لمونځ درست نه دی. (۱) فقط

دحقیر اورسوا امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۹۸۸) زید دریه در ډوډی غواړی اوپه اجرت باندی سړی هم لمبوی اوښځه یی بی پردی ګرځی، داسی سړی امامت کولی سی اوکه نه؟

جواب: لمونځ خوپه هغه پسی کیږی لیکن دداسی سړی امامت دنورو لائق امامت صالحانو سړیو په موجودوالی کی ښه نه دی (۲). فقط

دمتهم امامت: سوال: (۹۸۹) یوسړی حافظ قرآن دی خوپه هغه باندی یوڅو الزامات لګول کیږی چی دهغه په کورکی دغیر مذهب بی نکاح ښځه ده لیکن حافظ صاحب ورسره نکاح کول ښکاره کوی اومسلمانول یی هم ظاهروی خوکامل ثبوت یی نسته. دهغه امامت صحیح دی اوکه نه؟

جواب: چونکی پرمسلمان باندی ښه ګمان کول پکاردی اوبدګمانی پکار نه ده قال الله تعالٰی: ان بعض الظن اثمٌ (۳). لهٰذا کله چی دغه امام صاحب ددې ښځی مسلمان کیدل، اوپه نکاح کول بیانوی، نوپه دې باندی اعتبار کول پکار دی، اودګناه الزام دی پر دغه امام صاحب باندی نه لګول کیږی، اوامامت دهغه صحیح دی. فقط

په حیلی او بهانی سره دسود اخستونکی امامت: سوال: (۹۹۰) نامداره په احسان علی سره دځای مرشد آباد قاضی اوپیش امام دی. پنځه شپږ کاله وسوه چی مسمٰی احسان علی دتحریری تمسك داسنادو په ذریعی سره په دی طریقی سوداخستل شروع کړل چی اسناد یی دخپل لمسی اوزوی په نوم لیکل شروع کړل اودبعضو بعضو څخه یی سودهم وصول کی. چی پوښتنه ځینی وسوه نوجواب یی ورکی چی زه دانه کوم بلکی زما هلکان داسی کوی. داحیله تش په نامه ده. احسان علی دامام کیدلو قابل دی اوکه نه؟

جواب: مسمّی احسان علی په دی صورة کی لائق دامام جوړولو نه دی، که چیری هغه تائب نه سی نومعزول دی سی اوبل صالح امام دی مقرر سی (۴). فقط

دقانونی کاروایی کونکی امامت: سوال: (۹۹۱) حکیم محمد فخر عالم متبع دشریعت اود لمانځه روژی پایبند دی، مولوی اوحافظ هم دی، چونکه حکیم محمد فخرعالم څه موده

---

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل قال فی شرح المنیة کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

(۲). ولو أم قوما وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه اولانهم احق بالامامة منه کره له ذالك تحریما لحدیث ابی داود الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹) ظفیر.

(۳). سورة الحجرات: ۲ . ظفیر

(۴). وکذا تکره خلف امرد الخ واکل الربا (درمختار باب الامامة ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲) ظفیر.

دزراعت اوتیکه داری کارهم وکی چی دهغه په وجهی سره مقروض سو. اول یی څه جائیداد خرڅ کی اوقرض یی اداء کی لیکن کله چی په دی باندی هم اداء کیدل ناممکن وګڼل سوه نودخپلو مخالفینو دبیری څخه یی خپل جائیداد په عدالت کی پیش کړی او انساموںټ سو. نو دحکیم محمد فخر عالم دامامت په باره کی څه حکم دی؟

جواب: دحکیم محمد فخر عالم امامت درست دی او دانساموںټ حقیقت بنده ته (یعنی ماته) معلوم نه دی، که چیری دا دڅه معصیت ته متضمن نه وی اودحقدارو حقونه تلف سوی نه وی نوپه دی وجهی سره څه کراهت دهغه په امامت کی نسته. فقط

<u>دچاچی ږیره نه وی راغلی دهغه امامت</u>: **سوال**: (۹۹۲) دچاچی عمر درویشت کاله وی او او ږیره او بریت یی اوس راوتل شروع سوی وی، دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: لمونځ په هغه پسی صحیح دی. کذافی الشامی وغیره. (۱) فقط

<u>دیو سړی په بی وجهی ناراضګی سره په امامت باندی څه اثر نه کیږی</u>: **سوال**: (۹۹۳) دیو مولوی سره دیوسړی جګړه سوی وه دامعلومه نه ده چی ملامتیا دچاوه اوس هغه مولوی دمحلی په جومات کی امام سوی دی دهغه په امامت باندی دمحلی ټول خلګ خوشحاله دی صرف هغه سړی دکم سره چی جګړه سوی وه ناراضه دی. اوریدلی مودی چی په دغه امام پسی لمونځ نه صحیح کیږی؟

جواب: که چیری سبب ددغه سړی دناراضګی دامام څه قصور نه وی اوپه امام کی څه شرعی نقص نه وی نوددغه سړی دناراضګی اعتبار نسته، لمونځ په دغه امام پسی بی کراهته صحیح (۲) دی. فقط

<u>دناجائزی جرمانی کونکی امامت</u>: **سوال**: (۹۹۴) یو مسلمان یوه (غیر مسلمه) موچی ښځه مسلمانه کړه او دهغې سره یی نکاح وکړه، په دی خبره یوسړی چی نوم یی قاضی وزیر شاه دی هغه دکورنۍ څخه جلا کی اواوبه یی ورباندی بند کړی اونکاح ته یی ناجائز وایی او وزیر شاه دټیکس اوجرماني پنځه روپی هم ورڅخه واخستی. دداسی سړی دامامت شرعًا څه حکم دی په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

---

(۱). سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الخ عَنْ شَخْصٍ بَلَغَ مِنْ السِّنِّ عِشْرِينَ سَنَةً وَتَجَاوَزَ حَدَّ الْإِنْبَاتِ وَلَمْ يَنْبُتْ عِذَارُهُ ، فَهَلْ يَخْرُجُ بِذَلِكَ عَنْ حَدِّ الْأَمْرَدِيَّةِ ، وخصوصاً قد نبت له شعرات فی ذقنه تؤذن بانه لیس من مستدیری اللحی فهل حکمه فی الامامة کالرجال الکاملین ام لا ؟ فاجاب بالجواز (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲**). ظفیر

(۲). فان اختلفوا اعتبروا اکثرهم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۲** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۸ - ۵۵۹**). ظفیر

جواب: دوزیر شاه دامعامله کمه چی هغه ددغه مسلمان اونوی مسلمانی (ښځی) سره وکړه اوهغه یی دکورنی څخه جلا کی دشریعت څخه خلاف ده، اوحرامه اوناجائزه ده او مسلمانیدل ددغه نومسلمی اونکاح ورسره کول شرعًا درست دی اوصحیح دی. دقاضی مذکور دی ته ناجائز ویل غلط دی اوسخت جهالت دی او ټیکس اوجرمانه اخستل یی حرام اوباطل (۱) دی. داسی سړی دامامت قابل نه دی په هغه پسی لمونځ مکروه کیږی او دهغه دامامت څخه معزوله کول ضروری دی. (۲) فقط

دزانی امامت: **سوال**: (۹۹۵) یوسړی دمسجد امام دیوزمیندار لور وتښتوله. اودهغې سره یی نکاح وکړه اوخپله مخکنی ښځه یی قتل کړه. څه موده وروسته ذکرسوی امام یوه انجلۍ ناواده سوی وتښتوله اوبل ځای ته یی بوتله. وروسته دهغې وارثانو انجلۍ دهغه څخه جلا کړه اوپه بل ځای کی یی په نکاح ورکړه. اوس بیا دکلی یوڅو مسلمانانو دغه سړی خپل امام جوړکړی دی، په داسی صورة کی هغه امام جوړول پکاردی اوکه نه؟

جواب: که چیری ذکرسوی امام دخپلو افعالو اومعاصی وو څخه توبه نه وی کښلی امام جوړول یی مکروه تحریمی دی اولمونځ په هغه پسی مکروه (۳) دی. اوکه چیری هغه توبه کښلی وی نوګناه دهغه معاف ده اوامامت دهغه درست دی. بحکم التائب من الذنب کمن لاذنب له (۴). فقط

دېمو ښځو ددعوت خوړونکی امام جوړول درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۹۶) کم سړی چی دبې حیایی دکسب کارو ښځو دعوت خوری نوهغه امام مقررول څنګه دی؟

جواب: مکروه دی (۵). فقط

دباغبان امامت درست دی: **سوال**: (۹۹۷) یوسړی پرهیزګار اوصاحب علم دجومات امام دی، خویوڅو ورځی باغوانی یی هم کړیده نوهغه دامامت څخه معزول کیدی سی اوکه نه؟ **جواب**: دباغوانی په وجهی سره معزول کیدی نه سی. فقط

---

(۱). لا باخذ المال فی المذهب بحر وفیه عن البزازیة وقیل یجوز معناه ان یمسکه مدة لینزجر ثم یعیده له الخ وفی المجتبی انه کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ (در مختار) والحاصل ان المذهب عدم التعزیر باخذ المال (رد المحتار باب التعزیر مطلب فی التعزیر باخذ المال ص ۲۴۲ ج۳، ط.س. ج ۴ ص ۲۱). ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی الخ (ردالمحتار باب الجماعة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

(۴). مشکوة باب الاستغفار والتوبه ص ۲۰۲. ظفیر

(۵). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

دبواسیرو عارضي والا امامت: **سوال**: (۹۹۸) بنده ته دبواسیرو ناجوړی ده چی په مخرج باندی هروخت لوندوالی وی چونکی مخرج دنظر څخه غائب دی. ددی دپاره معلومه نه ده چی یو وخت دموادو بهیدل کیږی اوکه نه؟ نوپه دی صورة کی به معذور ګڼل کیږی اوکه نه؟ اوامامت به یی درست وی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی ثم المراد بالخروج من السبیلین مجرد الظهور (۱). ددی څخه معلومه سوه چی پرمخرج باندی هروخت دلوندوالی موجودوالی دمعذور جوړیدلو دپاره کافی دی ولی چی په مخرج باندی دلوندوالی ظهور ناقض (داودس ماتوونکی) دی، دسیلان ضرورت په دی کی نسته. دسیلان شرط په غیر سبیلین کی دی اوعند الحنفیه معذور دطاهر امام نسی جوړیدی. ولا طاهر بمعذور (۲). فقط

دحیواناتو خرونکی فقیر امامت: **سوال**: (۹۹۹) دفقیر قوم یوسړی دی، په جومات کی اوسیږی اوامامت کوی اوحیوان هم څروی اودهغه ښځه دایی توب کوی اودا سړی سرسایه هم اخلی، په داسی حالت کی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: لمونځ په دغه سړی پسی کیږی. دحیوانانو څرولو په وجهی سره یاپه دی وجهی سره چی دهغه ښځه دایی توب کوی دهغه په امامت کی هیڅ کراهت نسته لیکن امام ته دامام په معاوضه کی سرسایه اودقربانی څرمن ورکول اوهغه ته یی اخستل درست نه دی. اوکه چیری دهغه دغربت اومحتاج کیدلو په وجه بعضی (حصه) دالله دپاره دهغه دامامت دخیال څخه بغیر ورکول سی نوګنجائش سته. فقط

دکم امام څخه چی زړه صفاء نه وی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۰۰) زید دمسلمانانو دجماعت په مخکی دا اقرار وکی چی زما زړه دجومات امام ته صفانه دی په داسی حالت کی به دزید لمونځ په دغه امام پسی کیږی اوکه نه؟

جواب: دزید لمونځ په دغه امام پسی صحیح دی. فقط

دغیر مقلد اقتداء درسته ده اوکه نه؟ سوال: (۱۰۰۱) زموږ په علاقه کی یو مولوی زمیندار دی اوهم هغه لمونځ ورکوی لیکن ددی عقیدی والادی چی دی مولود شریف کولو او ددین دبزرګانو زیارت کولو اویولسمه اونذر او نیاز کولو ته بدعت وایی. او دآمین (بالجهر) اورفع الیدین کولو خلګو ته ترغیب ورکوی اوداخترونو لمونځ په دوولسو تکبیرونو سره ورکوی په داسی سړی پسی داهل سنت والجماعت لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب نواقض الوضوء ص ۱۲۴ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۱۳۵. ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸ . ظفیر

جواب: دمیلاد شریف محفل منعقدکول اویولسمه وغیره مروجه رسمونه کول بدعت دی، ددی څخه پرهیز کول پکاردی. اورفع الیدین اودوولس تکبیرونه په اخترونو کی ویل دامام شافعی مذهب دی، حنفیه رفع یدینو ته سنت نه وایی، بلکی دهغوی په مذهب کی ماسوا دتکبیر تحریمه څخه بل په هیڅ وخت کی رفع یدین نشته اوتکبیرات زوائد په هر یوه رکعات کی دری دری دی. په درمختار کی دی: وهی ثلث تکبیرات فی کل رکعة ولو زاد تابعه الی ستتة عشر لانه مأثور ([1]) الخ.

نو حنفیه وو ته رفع یدین کول نه دی پکار اوزیات تکبیرونه په اخترونو کی دری دری کیدل پکاردی اوباقی رسمونه دمحفل میلاد وغیره ترك کول پکاردی، اصلی حقیقت دادی. دغه زمیندار مولوی صاحب غالبًا غیر مقلد دی چی درفع یدین ترغیب ورکوی. دهغه خبره منل نه دی پکار، اوهغه امام جوړول هم نه دی پکار. ([2])

<u>مشتبه اوبدنام امام جوړول څنګه دی؟</u> سوال: (١٠٠٢) کم امام چی یوازی اوسیږی اواکثره بی ږیری هلکان دهغه سره په یوازی والی کی پیداسوی وی اودهغه په باره کی په محلې کی دبدچلنی شهرت هم وی نولمونځ ورپسی بی کراهته درست دی اوکه نه؟ دبل نیك سړی په موجودګی کی کم چی عفیف (یعنی پاك لمنی) دی، دغه سړی لمونځ ورکولو ته پرینښوول پکاردی اوکه نه؟

جواب: په داسی حالت کی دغه امام ته لمونځ ورکول مکروه دی ولی چی دمقتدیانو کراهت دهغه دامامت څخه دامام دخرابی په وجهی سره دی. لهٰذا داسی امام ته لمونځ ورکول نه دی پکار. قال فی الدر المختار ولوام قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه اولانهم احق بالامامة کره له ذٰلك تحریمًا لحدیث ابی داود لایقبل الله صلوٰة من تقدم قومًا وهم له کارهون ([3]). الخ

<u>دبرص والا امامت جائزدی اوکه نه؟</u> سوال: (١٠٠٣) زید یولوستی، ددینیات څخه خبر محتاط حنفی دجومات امام دی. بعضو احبابو په هغه پسی په دی وجه لمونځ کول پریښی دی چی دهغه پربدن باندی دبرص یوڅو دانی دی دکمو چی هغه علاج کوی او دمحلی موجوده حاضرینو ته په هغه پسی په لمونځ کولو کی هیڅ نفرت اوکراهت نشته. په داسی سړی پسی لمونځ جائز دی او که مکروه. که چیری مکروه وی نو کراهت تنزیهی

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ص ٧٧٩ ج١ ، ط.س. ج٢ ص ١٧٢ – ١٧٣ . ظفیر

([2]). تکره خلف امرد الخ ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعاة لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٢ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٢٢ – ٥٢٣). ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٢ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ . ظفیر

دی اوکه تحریمی. اووجه دکراهت څه ده؟

جواب: په دغه امام پسی لمونځ بی کراهته درست دی ولی چی په ابرص پسی په هغه حالت کی فقهاوو لمونځ مکروه په کراهت تنزیهی سره لیکلی دی چی برص دهغه ظاهر اوباهر وی یعنی دبرص زیاتی نخښی وی دکمو په وجهی سره چی مقتدیانو ته تنفروی اوکله چی نه برص داسی ظاهروی اونه مقتدیانو ته تنفروی نوبیا هیڅ کراهت دهغه په امامت کی نسته. په درمختار کی دی: وکذا تکره خلفا امرد وسفیه ومفلوج وابرص شاع برصه الخ. قال فی الشامی قوله وکذا تکره خلف امرد الخ الظاهر انها تنزیهیة (۱). الخ

دمعذور اودهغه دامامت څه حکم دی؟ سوال: (۱۰۰۴) که چیری یو سړی په مختلفو مرضونو کی اخته وی، دحکیم اوډاکټر څخه یی علاج وکی لیکن څه فائده ونه سوه، دهغه څخه وروسته دغه سړی دبدن دفاسدی مادې ایستلو دپاره دحکیم په مشوری سره په لاس اوپښو کی داغ ولګوی اوپه هغه کی دنیم ددرختی یومرهم جوړ کړی اوپکښی کښی یې ښووله په هغه سره زخم پیداسو همیشه دهغه څخه لوندوالی جاری اوسی چی دهغه په وجهی سره په اکثرو امراضو کی تخفیف کیږی، داسړی شرعًا معذور دی اوکه نه؟ اوپه ده پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: معذور شرعًا هغه دی چاته چی دلمانځه په ټول وخت کی دومره موقع ورنه کول سی چی بغیر ددغه عذر څخه هغه اودس وکړی اولمونځ اداسی، نوپر چاچی داحالت راغلی وی هغه معذوردی. بیاترڅو پوری چی هغه په دی عذر کی مبتلاوی چی هیڅ وخت دلمانځه ددغه عذر څخه خالی نه اوسی نودی به معذور اوسی. په درمختار کی دی ان استوعب عذره تمام وقت صلوٰة مفروضة بان لا یجد فی جمیع وقتها زمناً یتوضأ ویصلی فیه خالیاً عن الحدث الخ وهذا شرط العذر فی حق الإبتداء وفی حق البقاء کفی وجوده فی جزء من الوقت ولو مرةً الخ (۲) نوکه چیری ذکرسوی سړی ته دانوبت راغلی وی چی هروخت دهغه زخم جاری وی اودلمانځه په ټول وخت کی هغه ته دومره موقع ورنه کول سوه چی اودس اوکړی اوددغه عذر څخه بغیر لمونځ وکړی نودی معذوره سو، اوس ترکمه پوری چی دده دغه زخم بهیږی یعنی دلمانځه په وخت کی په څه نه څه وخت کی دهغه څخه مواد جاری کیږی نودی به معذور اوسی. اومعذور دغیر معذورینو امام کیدی نه سی. (۳).

---

(۱). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲. ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار احکام المعذور ص ۲۸۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۳۰۵. ظفیر

(۳). ولا طاهر بمعذور (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸). ظ

کم غیرمقلد چی دائمه اربعه وو تقلید ته کفر اوشرک وایی دهغه امامت څنګه دی؟ سوال:
(**۱۰۰۵**) زید غیر مقلد دائمه اربعه وو تقلیدته کفر اوشرك وایی. دزید وینا صحیح ده اوکه غلطه، اوپه هغه پسی لمونځ صحیح دی اوکه نه؟

جواب: ددغه غیر مقلد قول غلط دی، اوګمراهی اوخطا یی ښکاره ده، په داسی غیر مقلد پسی لمونځ صحیح نه (۱) دی. فقط

دوهمی امام جوړول څنګه دی؟ سوال: (۱۰۰۶) یوسړی دومره وهمی دی چی دچاسره مصافحه نه کوی، که چیری یو مسلمان ورته څه شی ورکړی نوپه خپل لاس کی یی نه اخلی، هغه ته وایی چی په مزکه یی کیده، بیایی دمزکی څخه لوړوی. دداسی سړی څخه بیعت کول اوامام یی جوړول څنګه دی؟

دقومیت بدلونکی امامت؟ (۱۰۰۷) یو دمسجد امام خپل ذات بدل کړی دی، دداسی سړی امامت اوبیعت درست دی اوکه نه؟

دسهری (ګلانو اوډګلانو دګیډیو) **تړونکی امامت**؟ (۱۰۰۸) دیوسړی زوی پیداسو، هغه په خپلو دیوالونو باندی ګلان وتړل، دهغه دامامت اوبیعت څه حکم دی؟

جواب: (۲) (۱) داسی وهمی سړی چاته چی داتباع شریعت هیڅ خیال نسته دبیعت کولو اوپیر او مقتداء جوړولو لائق نه دی اوامام جوړول یی هم نه دی پکار، لیکن که چیری هغه لمونځ ورکی نوکه یوکارلمونځ ماتونکی څینی سوی نه وی نولمونځ یی صحیح سو.
(۲) داسی سړی دامام جوړولو اوپیر جوړولو لائق نه دی. (۳)
(۳) داسی سړی هم لائق دامامت اوبیعت نه دی (۴). فقط

رافضی امام جوړول څنګه دی: سوال: (۱۰۰۹) یوسړی دمسجد امام دی او ړوند دی دهغه مور او پلار شیعه ګان دی، محضی دخپل نس دوجی نه خپل ځان اهل سنت ښکاره

---

(۱). داسی سړی فاسق دی اوډفاسق امامت مکروه تحریمی دی. ارشاد نبوی دی سباب المسلم فسوق وقتاله کفر (مشکوٰة) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه لانه لایهتم لامردینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانة شرعًا الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۰). ظفیر

(۲). والاحق بالامامة تقدیما ؁ الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۳). یکره امامة عبد الخ وفاسق ومبتدع ای صاحب بدعة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰) ظفیر.

(۴). ویکره امامة عبد الخ ومبتدع ؁ ولا یکفر بها حتی الخوارج ؁ وان انکر بعض ما علم من الدین بالضرورة کفر بها ؁ فلا یصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۳ - ۵۲۴ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰) ظفیر.

کوی او لمونځ ورکوی، دداسی شخص امامت یا جنازه، نکاح او نور جائز دی اوکه نه ؟
جواب: که چیری هغه په حقیقت کی پرمذهب داهل سنت والجماعت وی، رافضی نه وی، نوپه ده پسی لمونځ صحیح دی اودده نکاح تړل هم صحیح دی، مګر ددې خبری تحقیق دی ضرور وسی چی آیا هغه خوبه رافضی نه وی. که چیری رافضی وی نوبیا په ده پسی لمونځ صحیح نه دی. (۱) فقط

دقرآن هیرونکی اوجماعت ترک کونکی امامت څنګه دی؟ **سوال**: (۱۰۱۰) یوسړی قرآن کریم) حفظ کی یودوه کاله یی په جومات کی ووایه هم، اوس چی راغی هیر کړی یی دی اودجماعت پایبنده هم نه دی، هغه امام جوړول څنګه دی. بل سړی کم چی عالم دی او دجومات پایبنده دی او قرآن کریم څنګه چی ناظره خوان یې ویل کوی هغه رکم یې وایی، دهغه دامامت څه حکم دی؟
جواب: قرآن کریم دیادولو څخه وروسته هیرول ګناه کبیره ده اوپر جماعت پرینبوولو باندی اصرار کول هم معصیت کبیره ده، په داسی سړی پسی لمونځ مکروه دی (حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایلی دی: ولو انکم صلیتم فی بیوتکم کما یصلی هٰذا المتخلف فی بیته لترکتم سنة نبیکم ولوترکتم سنة نبیکم لضللتم. فتح القدیر ص ۳۰۱ ظفیر) اوبل سړی کم چی عالم اودشریعت پایبنده دی او قرآن کریم صحیح وایی دهغه امامت ښه (۲) دی. فقط

ددرواغجن سړی دامامت څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۰۱۱) کم سړی چی پنځوس روپی واخلی اودحاملی ښځی نکاح وتړی اوپه عدالت کی په دروغو قسم واخلی. په هغه پسی دلمانځه څه حکم دی؟
جواب: داسی سړی فاسق دی، په هغه پسی لمونځ مکروه دی، لمونځ یې صحیح کیږی خو (۳) کراهت پکښی دی. فقط

دغوث پاک جنډه ساتونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۱۳) په ګجرات اوبمبئ کی بعضو خلګو دپیسو ګټلو داذریعه جوړه کړیده چی دلس پنځو اوږدو اوږدو بانسونو په سرکی یی داوسپنی پنجی لګولی دی اومختلفی رنګینی کپړی یی وریپوری تړلی دی

---

(۱). والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۷**). ظفیر
(۲). ویکره امامة عبد ؒ وفاسق (درمختار باب الامامة ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹ - ۵۶۰**). ظفیر
(۳). ویکره امامة عبد وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص **۵۲۳** ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹ - ۵۶۰**). ظفیر

اوپه کور کی یې ایښی دی، اووایی چې دادحضرت غوث پاك نښانونه (جنډی) دی. نو کله چې دوبایی مرض په زمانه کی خلګ په فقیرانو اومسکینانو باندی ډوډی خوی نو دغه نښانونه راغواړی اوتر هغه لاندی بزی حلالوی، غرض داچی ددغه نښانونو ډیر تعظیم اوتکریم کیږی اوڅوك چی دغه نښانونه ساتی هغه ته خلیفه وایی. دداسی سړی په باره کی څه حکم دی، هغه داسلام ددائری څخه خارج دی اوکه نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ کول اولاس ورورل اوتعلق ورسره ساتل څنګه دی؟

جواب: په دی کی شك نسته چی دا دجاهلیت رواجونه دی اودشرك اوبدعت افعال دی ددی افعالو ارتکاب کونکو ته به مبتدع اوفاسق ویل کیږی. په کافر ویلوکی دی احتیاط وسی، اولمونځ په هغوی پسی مه کوی. اوسلام اومصافحه په داسی بدعتیانو پسی ترك کړی اوتعلقات دهغوی سره منقطع کړی اوتر دغه نښانونو لاندی بزی حلالونکی که چیری دجنډی خاوند ته دنژدیکت په خیال سره یې حلالوی نودکفر بیره ده اودغه ذبیحه حرامه ده. فقط

دجومات پرملکیت باندی دناجائز مالکانه حیثیت اختیارونکی امام جوړول څنګه دی؟ سوال: (۱۰۱۳) دیو جومات سره متعلق دوه دوکانونه دی پرکموباندی چی امام صاحب مالکانه تصرف کول غواړی، مسلمانان (یعنی مقتدیان) غواړی چی ددوکانونو کرایه دجومات په مرمت اوضروری کارونو فرش وغیره کی خرڅ سی، په دی باندی امام صاحب په هیڅ شان نه راضی کیږی، که چیری امام صاحب په خپل اصرار باندی قائم اوسی نوهغه په امامت باندی قائم ولرو اوکه بل امام منتخب کړو؟

جواب: دجومات ددوکانونو کرایه بیشکه دجومات په مرمت اوضروریاتو کی لګول پکار دی. دامام مذکور درضا اواجازی ضرورت په دی کی نسته، اوکه چیری امام مذکور په خپل قول اوفعل باندی اصرار کوی نوهغه دی دامامت څخه معزوله سی اوبل امام صالح دی مقرر سی ([1]). فقط

دلور په واده باندی دروپو وصولونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۱۴) یوسړی دخپلی لور په واده کی دهلك دمور او پلار څخه دوه سوه روپی واخستی که داسی سړی امامت کوی نوجائزدی اوکه نه؟ اوس هغه توبه کاږی لیکن روپی بیرته نه ورکوی، دروپو واپس کولو څخه بغیر په توبی کولو سره هغه دامامت لائق کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دانجلۍ مور او پلار ته دخاوند یا دخاوند دمور اوپلار څخه څه روپی اخستل یې

([1]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰)، ظفیر

په درمختار کی رشوت اوحرام لیکلی (۱) دی. نو دغه روپی بیرته ورکول ضروری دی. اوتوبه دهغه همداده چی روپی بیرته ورکړی. که چیری روپی یی واپس نه کړی نوفاسق به پاته وی اودفاسق امامت مکروه دی فاسق دامام جوړولو لائق نه دی په هغه پسی اودهغه په معاونینو پسی که څه هم چی لمونځ صحیح کیږی. لقوله ﷺ صلوا خلف کل بر وفاجر. الحدیث. لیکن مکروه کیږی. کذا فی الدر المختار (۲) والشامی. فقط

څوک چی درواجونو داداء کونکی سړی دعوت خوری دهغه دامامت څه حکم دی؟ سوال:

(**۱۰۱۵**) زید چی سند یافته عالم دی اوزموږ په ځای کی دجامع مسجد امام هم دی په یوداسی دعوت کی شریك سو په کم کی چی آتشبازی، انګریزی باجه وغیره شرعی ممنوعات وه اوډوډی وغیره یی وخوړل، شریعت مبارك په داسی سړی پسی په لمونځ کولو کی څه حکم ورکوی هغه ته توبه کښل پکاردی اوکه نه؟

جواب: په دی باره کی یی په درمختار کی داتفصیل کړی دی، چی که چیری په داسی دعوت اوولیمه کی دتللو اوشریکیدلو څخه مخکی علم نه وو چی هلته داسی ناروا کارونه دی نوکه چیری دی مقتدا سړی وی نوده ته هلته تم کیدل اوشریکیدل نه دی پکار. اوکه چیری مقتداء نه وی نوپه زړه سره دی یی بدګڼی اوډوډی وغیره دی وخوری. اوکه چیری دتللو څخه مخکی ورته پته ولګیږی نوهیڅکله (۳) دی نه شریکیږی نو په صورة مسئوله کی امام مذکور ته توبه کښل پکاردی، او وروسته دتوبی څخه په هغه پسی لمونځ بی کراهته صحیح دی. جاء فی الحدیث التائب من الذنب کمن لاذنب (۴) له. فقط

په طور ددارو دأفیونو دخوړونکی امامت: **سوال**: (**۱۰۱۲**) عمر په وجه دساه لنډی افیون خوری، په دی وجه کله په لمانځه کی نشه سی، هغه دامامت قابل دی اوکه نه؟ په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: لمونځ خوپه هغه پسی صحیح کیږی په دی شرط چی یوکار لمونځ ماتونکی دهغه

---

(۱). ومن السحت ما یاخذ الصهر من الختن بسبب بنته بطیب نفسه حتی لوکان بطلبه یرجع الختن به مجتبی (ردالمحتار حظر واباحت ص ۴۷۴ ج۵ ، ط.س. ج۲ ص ۴۲۴)، ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

(۳). ولودعی الی دعوة فالواجب ان یجیبه ؒ اذا لم یکن هناك معصیة ولا بدعة ؒ والامتناع اسلم فی زماننا، الا اذا علم یقینا بانه لیس فیها بدعة ولا معصیة ؒ لا یجب دعوة الفاسق المعلن (عالمگیری کتاب الکراهیة الباب الثانی عشر ص ۳۰۵ ج۵ ، ط. م. ج۱ ص ۳۴۳). ظفیر

(۴). مشکوة باب التوبة والاستغفار فصل ثالث . ظفیر

څخه ونسي. ليکن که چيری بل سړی اولی بالامامت موجودوی، نودغه بل سړی امام جوړول پکاردی. فقط

دشهوت دشدت په وخت کی امام جوړيدل څنګه دی؟ سوال: (۱۰۱۷) زه جره يم، په بعضو ورځو کی دشهوت زوروی اوپه لمانځه کی هم خيالات راځي، اودمذی څاڅکی را څخه وزی، په داسی حالت کی لمونځ کول اوامام جوړيدل جائزدی اوکه نه؟ اوچونکی زما دنکاح کيدلو توقع نسته. ددی دپاره زما اراده ده چی داسی دارو وخورم چی په هغه سره می دشهوت ماده ختمه سی. داجائزدی اوکه نه؟

جواب: په حديث شريف کی دامضمون راغلی دی چی کم سړی دنکاح اسباب اوطاقت لری هغه دی نکاح وکړی اودچا سره چی دنکاح اسباب نه وی اودهغه نکاح يوځای کيدی نه سی هغه دی روژی نيسی ځکه چی روژه نيول دهغه دپاره رجاء ده يعنی شهوت بندوی. (۱) اوحضور ﷺ دنامرد جوړيدلو څخه منع فرمايلی ده اودايی حرام فرمايلی دی داسی اراده هيڅکله کول نه دی پکار. (۲) که چيری تاسی په دی حديث باندی عمل وکی نواميددی چی الله ﷻ به دغيبو څخه دنکاح اسباب هم تيار وفرمايي. ع:

ميدهد يزدان مراد متقی

قال الله تعالی ومن يتق الله يجعل له مخرجًا الآية. (۳) ترجمه: اوځوک چی دالله ﷻ څخه بيريږی نوالله ﷻ دهغه دپاره خلاصون فرمايي. اودمذی دقطری څڅيدلو په حالت کی لمونځ نه صحيح کيږی، داسی سړی ته امام جوړيدل نه دی پکار (۴). البته کله چی په روژی نيولو سره شهوت کم سی اومذی نه راځی نوهغه وخت دی امام جوړسی. فقط

---

(۱). عن عبدالله بن مسعود قال : قال رسول الله ﷺ: يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج فإنه أغض للبصر وأحصن للفرج ومن لم يستطع فعليه بالصوم فإنه له وجاء . متفق عليه (مشکوٰة کتاب النکاح فصل اول ص ۲۶۷). ظفير

(۲). عن أبي هريرة ﷺ قال قلت يا رسول الله إني رجل شاب وأنا أخاف على نفسي العنت ولا أجد ما أتزوج به النساء كأنه يستأذنه في الاختصاء قال: فسكت عني ثم قلت مثل ذلك فسكت عني ثم قلت مثل ذلك فسكت عني ثم قلت مثل ذلك فقال النبي ﷺ : يا أبا هريرة جف القلم بما أنت لاق فاختص على ذلك أو ذر. رواه البخاری (مشکوٰة باب الايمان بالقدر ص ۲۰). ظفير

(۳). سورة الطلاق. رکوع ۱. ظفير

(۴). دمذی وتلو سره اودس ماتيږی اوبيا دوباره اودس دلمانځه دپاره فرض دی اوکله چی اودس باقی پاته نه سی نولمونځ به څنګه جائزوی لاعند مذی (ای لا يفرض الغسل عند خروج مذی) او ودی بل الوضوء منه ای بل يجب الوضوء منه (وګوری ردالمحتار مبحث الغسل ص ۱۵۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۱۶۵) داودس دنواقضو په سلسله کی صراحت دی: المعانی الناقضة للوضوء کل مايخرج من السبيلين الخ (هدايه فصل نواقض وضوء ص ۳۳ ج۱). ظفير

چی تربجلکو لاندی پرتوګ ساتی دهغه امامت: **سوال**: (١٠١٨) که دامام پرتوګ تر بجلکو کښته وی ، نو دهغه لمونځ څنګه دی؟

جواب: که قصداً یی کښته ساتی نوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی. (١) فقط

دجهینګا (٢) **خوروںکی امامت څنګه دی؟** **سوال**: (١٠١٩) دلته یوسړی امام دی اوزما استاذ هم دی هغه جهینګا خوری که چیری په دی باره کی دهغه سره بحث کوو نوداستاذ والی په وجه شرم راځی، دهغه ناراضګی نه غواړم، په دغه سړی پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: واضحه دی وی چی ددین په مسئله کی دڅا څخه شرم نه دی پکار اودهغه دناراضوالی اوخفه والی خیال نه دی پکار اوکم سړی چی دحرام کارمرتکب دی هغه فاسق دی په هغه پسی لمونځ مکروه تحریمی دی. باقی تاسی داتشریح په سوال کی ونه کړه چی دجهینګا څخه ستاسی مراد ماهی دی اوکه داجهینګا کم چی په کورونوکی وی. هغه خوپه حشرات الارض اوخبائثو کی دی دهغه خوړل خوحرام دی. (٣) اوکم جهینګاچی دریابی دی کم ته چی جهینګا ماهی وایی که چیری هغه دماهی دقسم څخه وی خودرست (٤) دی اوکه چیری دماهی دقسم څخه نه وی، نوحرام دی. ددی خبری تحقیق کول پکار دی. فقط

دنوی مسلمان سوی څوان شخص امامت چی سنتیا یی نه وی سوی څنګه دی؟ سوال: (١٠٢٠) کم سړی چی دځوانی په عمر کی اسلام راوړی وی اومسلمان سوی وی هغه ته ختنه (یعنی سنت) کول پکاردی، اوکه نه؟ اودختنی کولو څخه مخکی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: دنومسلم ختنه موافق دسنت نبویه علی صاحبها الصلوٰة والتحیه کول پکاردی ولی چی ختنه کول داسلام دشعائرو څخه دی اودضرورت په وجه کله چی هغه پخپله ختنه نسی کولی دختان (ختنه کوونکی) په ذریعه ختنه کول درست دی او دضرورت په

---

(١). قال رسول الله ﷺ ما اسفل من الكعبين من الازار فی النار رواه البخاری (مشکوٰۃ کتاب اللباس ص ٣٧٣) کله چی داناجائز سو نوچی څوك ددی مرتکب سی هغه فاسق سو او دَفاسق امامت مکروه دی. ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار باب الامامة ، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ – ٥٦٠). ظفیر

(٢). **جهینګا**: یوقسم دریابی چینجی دی چی خلګ یې ماهی ګڼی ، په پښتوکښی ورته (مکړی) وایی، او هندوان یې خوری. نسیم اللغات ص ٣٢٣ ، فیروز اللغات ص ٥٠١ . حقانی"

(٣). ولا یحل ذوناب الخ ولا الحشرات هی صغار دواب الارض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الذبائح ص ٢٢٥ ج٥ ، ط.س. ج ٦ ص ٣٠٤). ظفیر

(٤). وهل الجراد الخ وانواع السمك بلا ذکاة (ایضًا ص ٢٢٨ ج ٥ ، ط.س. ج٦ ص ٣٠٧) ظفیر.

وجه دختّان نظر دختنی پرځای باندی درست دی کما فی الدر المختار کتاب الحظر والاباحة: ینظر الطبیب الی موضوع مرضها بقدر الضرورة اذا الضرورات تتقدر بقدرها وکذا نظرقابلة وختان الخ قوله وختان کذا جزم فی الهدایة والخانیة وغیرهما. (١) الخ شامی اوترڅو پوری چی هغه ختنه ونه کړی بیاهم په هغه پسی لمونځ صحیح دی. فقط

څوک چی دلمونځ او روژی پابند نه وی اوظلم کوی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ سوال:

(١٠٢١) کم سړی چی دلمانځه او روژی قطعی پابند نه وی، دروغ ډیر وایی، دظلم او زیاتی عادی وی، زانی وی، ددین بزرګانو ته بدوایی، سره ددی ټولو بدو کارونو خپل ځان ولی ښکاره کوی په هغه پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دحق تعالی ارشاد دی: ان اولیاءه الا المتقون (٢). اوفرمایلی یی دی: الا ان اولیاء الله لاخوف علیهم ولاهم یحزنون الذین اٰمنوا وکانوا یتقون. (٣) ددی آیتونو څخه معلومه سوه چی دالله ﷻ ولی هغه دی څوک چی متقی وی بدعمله سړی ولی نه دی، اودا دعوٰی دهغه دروغ ده کم سړی چی دحق تعالی نافرمان وی هغه دالله دښمن دی، دهغه څخه مرید کیدل درست نه دی اوهغه امام جوړول مکروه دی. (٤)

دمحرم جوړوونکی اوشدت پرست امامت: **سوال**: (١٠٢٢) دشدت پرست اوپه محرم کی درواجونو اداء کونکی امامت څنګه دی. ددی څخه علاوه هغه په قرآئت کی اکثره غلطی هم کوی.

جواب: قال فی الدر المختار : ویکره تنزیهًا امامة عبد الخ واعرابی وفاسق الخ ومبتدع ای صاحب بدعة لا یکفر بها الخ وان کفر بها فلا یصح الاقتداء به اصلاً الخ وفی الشامی : واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا ، ولا یخفی انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول الْعِلةُ ، فَإِنَّهُ لَا يُؤْمَنُ أَنْ يُصَلِّيَ بِهِمْ بِغَيْرِ طَهَارَةٍ فَهُوَ كَالْـمُبْتَدِعِ تُكْرَهُ إِمَامَتُهُ بِكُلِّ حَالٍ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (٥) لماذکرنا الخ ص ٣٧٦ ، شامی جلد اول . ددی عبارت څخه واضحه سوه چی په فاسق اومبتدع پسی لمونځ مکروه تحریمی دی اوهغه دامام جوړولو

(١). ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی النظر والمس ص ٣٢٥ -٣٢٢ ج٥ ، ط.س. ج٦ ص ٣٧٠ . ظفیر
(٢). سورة الانفال رکوع ۴. ظفیر
(٣). سورة یونس رکوع ٧. ظفیر
(٤). یکره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ - ٥٦٠). ظفیر
(٥). رد المحتار باب الامامة ص ٥٢٣ ج١ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ - ٥٦٠ . ظفیر

لائق نه دی. نوذکر سوی سړی مبتدع هم دی اوفاسق هم دی، اوددی څخه علاوه قرآن کریم هم غلط وایی، لهٰذا هغه په هیڅ شان دامام جوړولو لائق نه دی. فقط

دامام رکوع اوسجده اوږدول څنګه دی؟ سوال: (۱۰۲۳) زموږ پیش امام صاحب چی موږ ته دسهار لمونځ راکوی نوپه رکوع اوسجده کی دومره وخت تیروی چی مقتدیان پنځوس شپیته واره تسبیح ووایی اوکله چی هغه ته دوخت تیرولو شکایت وسی نوهغه وایی چی په لمانځه کی دومره وخت تیرول دزیات ثواب اواجر باعث دی. په موږ کی اکثره دنیا دار کار وبار والادی اوبعضی مریضان اوکمزوری دی نوپه دی صورة کی څه حکم دی؟

جواب: په درمختار کی دی: ویکره تحریمًا تطویل الصلوة علی القوم زائدا علی قدر السنة فی قرآئة واذکار رضی القوم اولا، لاطلاق الامر بلتخفیف) وهوما فی الصحیحین اذا صلّی احدکم للناس فلیخفف فان فیهم الضعیف والسقیم والکبیر واذا صلی لنفسه فلیطول ماشاء (۱) ﷺ شامی، ددی څخه معلومه سوه چی دامام رکوع اوسجده دومره (زیات) اوږدول مکروه تحریمی دی اوداکار دهغه ناجائز دی اودا دهغه دجهالت دلیل دی. داسی سړی دی امام جوړنه سی ولی چی په یوحدیث کی یی داسی سړی ته فتان فرمایلی دی یعنی فتنه کی اچونکی. نوامام ته رعایت دمقتدیانوضروری دی اوپه قرآئت اورکوع اوسجده کی تخفیف لازم دی. فقط

دګوډ په امامت کی څه خرابی خونسته: سوال: (۱۰۲۴) یوعالم باعمل (په پښه) ګوډ دی خوتګ راتګ کولی سی، څکه نودیو جومات امام دی. خلګ وایی چی په ده پسی لمونځ درست نه دی. په دی صورة کی څه حکم دی؟

جواب: په ګوډ پسی لمونځ صحیح کیږی لکین که چیری بل امام مقرر سی نوداښه ده کما فی الشامی. وکذا اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولی الخ (۲). فقط

صرف دیوامام پیروی کونکی امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۲۵) کم خلګ چی صرف دیوامام پیروی کوی اودباقی دری امامانو دپیروی څخه انکار کوی په هغوی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه ؟

جواب: مقلدین صرف دیوامام پیروی کوی اوهغوی ته صرف دیوامام تقلید کول پکار دی. مثلاً کم خلګ چی دامام ابوحنیفه رحمہ اللہ سابق الائمه مقلد دی هغوی به صرف دامام ابوحنیفه پیروی کوی. دامام شافعی وغیره رحمهم الله پیروی به نه کوی. (۳) فقط

(۱). رد المحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۲۷ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۴ . ظفیر
(۲). ردالمحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲ . ظفیر

دغیر مطلقې نکاح تړونکي امامت: **سوال**: (١٠٢٦) یوه ښځه دخپل خاوند دکور څخه ووته اوترډیرې مودې پې دیوغیر سړي سره ناجائز تعلق ودرلودی. بیازید مړسو نوښځې دعمر سره ناجائز تعلق جوړکړی اوحامله سوه. عمر دښځې سره نکاح کول وغوښتل نومولوی صاحب دښځې دخاوند څخه طلاق طلب کړ. کله چې هغه طلاق ورنه کړ نوبغیر طلاقه یې دښځې نکاح وتړله. په مولوي نکاح خوان اوشریکانو باندې څه حکم دی. دداسې مولوي اقتداء درسته ده اوکه نه؟

جواب: دمخکنې خاوند دطلاق ورکولو څخه بغیر دعمر سره نکاح ددغه ښځې ناجائز اوباطله ده اوکم خلګ چې دجواز فتوٰی ورکونکی دی اوپه دې نکاح کې مُعِین دی هغوی فاسقان اوعاصیان دی، توبه دې وکاږي اواعلان دې وکړي چې دانکاح نه ده سوې اوجدایي دې راولي. بغیر دتوبې څخه داسې مولوي داقتداء لائق نه دی. (١) فقط (په قرآن کریم کې چې کم ځای دمحرماتو ذکردی حرمت علیکم امهاتکم الآیة. هلته یې په محرماتو کې واده سوې ښځې هم شمارکړې دی. والمحصنٰت من النساء، ظفیر)

دمختلفې درجې قرآن کریم ویونکو امامت دیو بل دپاره: **سوال**: (١٠٢٧) دصوبه بهار نا لوستونکې خلګ دذال، زاء، ضاد پرځای جیم وایي یعنې ذاکر ته جاکر اوزور ته جور اوضماد ته جماد اوظاهر ته جاهر وایي. همدغه رکم دثاء، شین، صاد پرځای سین اود خاء پرځای کاء، اودعین پرځای الف، دغین پرځای ګاف، اوپه لمانځه کې دقرآن کریم الفاظ هم همدغه رکم اداء کوي، اولوستونکې عوام ذال، ضاد، ظاء په زاء سره ادا کوي، اوثاء اوصاد، په سین سره ، اوعین په الف سره ادا کوي، لکه څنګه چې اردو ویل کیږي اوپه لمانځه کې قرآن کریم هم په همدغه رکم وایي اوفتحه اوضمه اوکسره دومره راکشوي چې الف، یاء، واو ته نژدې سي نودلوستونکو خلګو لمونځ به په نالوستو پسې درست وي اوکه نه؟ علی هٰذا کم خلګ چې دتجوید څخه خبر دي، حروف دمخارجو څخه اواعراب په صحیح طور سره اداء کوي دهغوی لمونځ به په پورتنیو دوو قسمونو پسې درست وي اوکه نه؟ چیرې چې دوهم قسم امام وي اودلمانځه اوروژې دمسائلو څخه خبر وي اوپه دریم قسم پسې په سبب داختلاف مذهب څه رکم چې داهل حدیثو اوغیر مقلدینو اختلاف دی یادبدعت اودعدم بدعت. لمونځ کول جائزنه ګڼي نوددې دریم سړي

([٣]). وان الحکم المفلق باطل بالاجماع (درمختار) والتلفیق باطل فصحته منتفیة اهـ (ردالمحتار مقدمه مطلب فی حکم التقلید الخ ص ... ج١ ، ط.س. ج١ ص ٧۴). ظفیر

([١]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ج ١ ص ٥٢٣ ، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ - ٥٦٠). ظفیر

جمعه اوجماعت په دغه امام پسی جائزدی اوکه نه؟ اوکم سړی چی حروف دمخارجو څخه نه اداء کوی هغه ته دهغه چاپه مقابله کی چی اداء کوی داویل کیږی اوکه نه؟ چی قرآن کریم نه وایی؟

جواب: په درمختار کی دی: ولا غير الالثغ بالالثغ على الاصح كما فى البحر عن المجتبى وحرر الحلبى وابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائما حتما كالأمى فلا يؤم الا مثله ولا تصح صلاته اذا امكنه الاقتداء بمن يحسنه او ترك جهده اووجد قدر الفرض مما لا لثغ فيه هذا هو الصحيح المختار فى حكم الالثغ وكذا من لا يقدر على التلفظ بحرف من الحروف او لا يقدر على اخراج الفاء الا بتكرار الخ قال فى الشامى فى شرح قوله وكذا من لا يقدر الخ وذلك كالرحمٰن الرحيم والشيتان الرجيم ، والآلمين ، واياك نأبد واياك نستئين ، السراط ، انأمت ، فكل ذلك حكمه ما مرّ من بذل الجهد دائمًا والا فلا تصح الصلوٰة به الخ شامى (١) وفيه قوله فلا يؤم الا مثله يحتمل ان يراد المثلية فى مطلق اللثغ فيصح اقتداء من يبدل الراء المهلة غينا معجمة بمن يبدلها لامًا وان يراد مثلية فى خصوص اللثغ فلا يقتدى من يبدلها غينًا وهذا هو الظاهر كاختلاف العذر فليراجع (٢) وفى الدر المختار ايضاً ولا حافظ أية من القرآن بغير حافظ لها وهو الامى ولا امى باخرس الخ (٣) قوله بغير حافظ شمل من يحفظها او اكثر منها لكن بلحن مفسد للمعنى لما فى البحر عندنا من لا يحسن القراءة المفروضة الخ قوله ولا امى باخرس اما اقتداء اخرس باخرس او امى بامى (٤) فصحيح .

نو ددی تحقیقاتو څخه واضحه سوه چی دمخکنی اودوهم قسم غلط ویونکی امیان دی اودامی لمونځ په امی پسی صحیح دی لیکن شامی چی کم فلا یؤم الا مثله کی تحقیق نقل کړی دی په هغه کی یی دابنکاره کړیده چی دیوقسم لمونځ دی په بل قسم پسی صحیح نه وی، خو دامی لمونځ دصحت اطلاق په امی پسی دصحت مقتضی دی اوکم خلګ چی قرآن کریم صحیح سره دتجوید دقاعدو وایی ښکاره ده چی دهغوی لمونځ به په مخکنیو دوو قسمونو پسی صحیح نه وی. اودمخارجو څخه دحرفونو اداء کولو په مراتبو کی داعلیٰ درجی مجود چی څه رکم هریو حرف دخپل مخرج څخه باسی نور خلګ که څه هم قرآن کریم صحیح وایی لیکن ددی درجی څخه قاصردی، نوددی کمی درجی

(١). الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ج١ ص ۵۴۴ ، ط.س. ج١ ص ۵۸۱ – ۵۸۲ . ظفير
(٢). رد المحتار باب الامامة ج ١ ص ۵۴۵ ، ط.س. ج١ ص ۵۸۲ . ظفير
(٣). رد المحتار باب الامامة مطلب فى الالثغ ج ١ ص ۵۴۴ - ۵۴۵ ، ط.س. ج١ ص ۵۸۲ . ظفير
(۴). الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ج ١ ص ۵۴۲ ، ط.س. ج١ ص ۵۷۹ . ظفير

صحیح ویونکو ته دا خو نسو ویلی چی دوی قرآن کریم غلط وایی البته تجوید والا به ورته جید نه وایی. اونه ویلی سو چی داصحیح ویونکی خلگ ددی حرفونو بدلونکو په شان دی ځوك چی ظا اوضاد زا یاذال وایی اوطا په تاء وایی. کمالِ تجوید کم چی دحرفونو په پوره شان سره دمخارجو څخه اداء کول وغیره دی دا دمحسناتو (یعنی ښه څخه دی. فقط

دآمین بالجهر کونکی امامت: **سوال**: (۱۰۲۸) دآمین په لوړ آواز سره ویونکو پسی دحنفیانو لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: په دی کی څه تفصیل دی عمومًا نه سو ویلی چی صحیح نه دی اونه داچی صحیح دی. خلاصه داچی حتی الوسع دی غیر مقلدین امامان جوړنه سی ځکه چی په وجه دفساد دبعضو عقائدو دغیر مقلدینو احتمال دلمانځه دفساددی. اوکه چیری اتفاقًا یی په هغوی پسی لمونځ وکی نوپه حکم دصَلُّوا خلف کلّ برّ وفاجر الحدیث. هغه لمونځ صحیح سو. فقط

درفع یدین والا امامت: **سوال**: (۱۰۲۹) که چیری حنفی په هغه امام پسی لمونځ وکړی ځوك چی په لوړ آواز سره آمین وایی اورفع یدین کوی نولمونځ یې صحیح سو اوکه نه؟

جواب: لمونځ صحیح سو، په دی شرط چی څه خبره دلمونځ ماتونکی په امام کی ښکاره نه سی (۱).

آمین بالجهر درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۳۰) حنفی مسلمانانو دپیش امام څخه پوښتنه وکړه چی آیاموږ حنفیان هم آمین په لوړ آواز سره ویلی سو اوکه نه؟ نوامام صاحب وفرمایل چی هو! ویلی سی. آیا موږ یې ویلی سو؟

جواب: داجواب ددغه امام درست نه دی بلکی آمین کرار ویل پکاردی. ځنګه چی دآیت: ادعوا ربکم تضرعًا وخفیة (۲) اودحدیث اخفاءِ آمین څخه ثابت (۳) دی، اودآمین بالجهر تاویل سوی دی چی یاپه غرض دتعلیم دی کماثبت عنه ﷺ الجهر بالقرآءة فی بعض الصلوة التی یقرأ فیها سرًا. یامحمول دی پرابتداء باندی. فقط

---

(۱). وکره امامة عبد الخ ومخالف کشافعی لکن فی وتر البحر ان تیقن المراعاة لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی الاقتداء بشافعی ونحوه ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۳). ظفیر

(۲). سورة الاعراف رکوع ۷. ظفیر

(۳). عن وائل بن حجر رضی الله عنه قال صلی بنا رسول الله ﷺ فلما قرأ غیر المغضوب علیهم ولا الضالین قال امین واخفی بها صوته رواه احمد. (آثار السنن، باب ترك الجهر بالتامین جلد اول ص ۹۲). ظفیر

كم امام چې دحق تبليغ څخه بندول كوي، هغه امام جوړول څنګه دي؟ سوال: (۱۰۳۱) يو واعظ دقرآن اوحديث مطابق وعظ بيانوي. بل سړی امام دمسجد ورته وايي چې داسي وعظ مه وايه، ولې چې ته ټول مسائل واضح بيانوي، په دې سره موږ ته هيڅ نه راكول كيږي، څه دملايانو خلګو حق هم ساتي. وعظ كونكي دنورو خلګو څخه منع كوي. دبهشتي زيور مسائل نه مني. په داسي سړي پسي لمونځ كول جائزدي اوكه نه؟

جواب: وعظ كونكي ته دشريعت مسائل دفقهي كتابونو موافق بيانول پكاردي. دچا دويلو اوريدلو اوبدو ردو ويلو په وجهې سره دحقو مسائلو مفتٰى بها ضروريه وو څخه بنديدل نه دي پكار. اوكم سړي چې په دنياوي غرض سره حقاني واعظ دمسائل حقه مفتٰى بها ضروريه دبيانولو څخه بندوي، هغه په خطا باندي دي اوعاصي دي، امام جوړول دهغه مكروه دي اوپه هغه پسي لمونځ مكروه كيږي. داسي امام دشريعت مخالف دمعزولولو قابل (۱) دي. اوبهشتي زيو ديومعتبر عالم تصنيف كړي (كتاب) دي، دهغه مسائل كم چې مفتٰى بهادي دهغه په معتبروالي كي هيڅ شبه نسته. اوهيڅ حقاني عالم عمومًا دهغه په مسائلو باندي اعتراض نسي كولي. باقي كه چيري څه مسئله په هغه كي سهوًا خلاف راجح ياغير مفتٰى بها ليكل سويده. دهغه تحصيح پخپله مؤلف علام اخته دي كوي. فقط

دظالم امامت: سوال: (۱۰۳۲) زيد اوعمر ديوخاندان دي. په دواړو كي دنياوي دښمني زياته سويده. عمر كمزوري دي اوزيد ډله اوپارټي لري. ددې وجه چې څه غواړي كوي يي، يوه ورځ عمر په جومات كي لمونځ كوي، زيد دخپلو ملګرو په ملګرتياكي ددروازې پرشا اوخوا ګيره (محاصره) واچوله. كله چې عمرفارغه سو اودمسجد فرش ته راغي نو عمر ته زيد ښكنځل كول شروع كړل. عمر پرديوال باندي وځغاستل او وتښتيدی، زيد وړپسي ملګري وځغلول اوراوي نيوی، وهل ټكول شروع سوه زيد دعمر ږيره وشكوله، دهمدغه ورځي څخه عمر دبيري په وجه دغه جومات ته دلمانځه دپاره نه ځي اوپه كور كي لمونځ كوي ياكله بل جومات ته ولاړسي اولمونځ وكي. دعمر لمونځ په زيد پسي درست دي اوكه نه؟ دزيد امامت څنګه دي؟

جواب: دزيد ظلم اوزياتي ظاهردي، په دې وجهې سره هغه فاسق دي. لائق دامامت جوړولو نه دي. ددې ټولو خبرو سره دعمر لمونځ په زيد پسي صحيح دي، ليكن په فاسق امام پسي لمونځ دټولو مقتديانو مكروه دي، دعمر لمونځ به هم مكروه (۲) وي. اوعمر ته

(۱). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشى في شرح المنية ان كراهة تقديمه اى الفاسق كراهة تحريم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱، ط.س. ج ۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفير [باقي]

دذکر سوی بیری په وجهی سره دغه جومات ته نه راتلل اوددغه جومات جماعت ترك کول درست دی لیکن حتی الوسع په بل جومات کی په جمعه کی شریکیدل پکاردی، دا عذر مطلقًا دجماعت پریښوولو نسی کیدی، البته که چیری دکور څخه دباندی په وتلو کی هم بیره دوهلو اوښکنځلو وغیره وی او دفساد اندیښنه وی نوعمر ته په کور کی لمونځ کول درست دی. ([۱]) فقط

دصحیح ویونکی په موجود گی کی دغلط ویونکی امامت: **سوال**: (۱۰۳۳) دیوجومات امام قرآن شریف غلط وایی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ بل حافظ موجود دی، دامام غلط ویونکی امامت صحیح یادرست دی اوکه دحافظ. امام غلط ویونکی په : اَلَمْ تَرَ کَیْفَ، سره تراویح ورکوی اوحافظ په دغه جومات کی بل ځای قرآن کریم ویل شروع کړل. په یووخت کی په دواړو جماعتونو کی کم یوجماعت صحیح سو. اوکم سړی چی په تراویحو کی دقرآن اوریدلو څخه انکارکوی هغه څنگه دی؟

جواب: دامامت دپاره ښه دفقهاوو دتفصیل مطابق اعلم او اقرأ وغیره دی. ([۲]) اوکم سړی چی په لمانځه کی په قرآئت کی داسی غلطی وکړی کمه چی لمونځ ماتونکی وی نو لمونځ به صحیح نه وی اوکه چیری هغه غلطی لمونځ ماتونکی نه وی نولمونځ صحیح دی، لیکن داضروری ده چی غلط ویونکی دی امام جوړنه سی. ولی چی ممکنه ده چی دهغه څخه څه غلطی دلمونځ ماتونکی واقع سی ([۳]). اوپه: اَلَمْ تَرَکَیْفَ سره تراویح ورکول درست دی. په دغه جومات کی دتراویحو بل جماعت دمخکی جماعت په موجودوالی کی درست نه دی. ([۴]) اوتخفیف دقرآئت دمقتدیانو درعایت په وجه ماموربه دی. بناءً علی هذا که چیری دمقتدیانو دپوره قرآن کریم اوریدلو همت نه وی نوپه : اَلَمْ تَرَ کَیْفَ سره تراویح وکی. اوپه اَلَمْ تَرَکَیْفَ سره پرتراویح کونکو باندی دی طعن ونه سی([۵]). فقط

([۲]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه الخ بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰) ظفیر.

([۱]). فلا تجب علی مریض ؁ خوف علی مالها ومن غریم او ظالم (درمختار) اوظالم یخافه علی نفسه اوماله (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۱۹). ظفیر

([۲]). والاحق بالامامة تقدیما بل نصب الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفساد الخ ثم الاحسن تلاوة وتجویدا للقرآءة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

([۳]). ولاغیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح الخ فلایوم الا مثله ولا تصح صلاته اذا امکنه الاقتداء بمن یحسنه (در مختار) وفی الظهیریة وامامة الالثغ لغیره تجوز وقیل لا الخ وظاهره اعتماد هم الصحة الخ ینبغی له ان لایؤم غیره (رد المحتار باب الامامت ص ..... ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۱ – ۵۸۲). ظفیر

([۴]). ولوصلی التراویح مرتین فی مسجد واحد یکره کذا فی فتاوٰی قاضیخان (عالمگیری مصری باب التراویح ص ۱۰۹ ج۱، ط. م. ج۱ ص ۱۱۲). ظفیر

دهغه زنا کار امامت چاچې توبه کښلی وي؟ **سوال**: (۱۰۳۴) یوسړي یوه نکاح سوی ښځه دچاچې خاوند ژوندی وو وتښتوله اوتردوو کالو پوري یي بی نکاح وساتله. بیا دهغې خاوند مړسو اودعدی څخه وروسته هغه سړي ددغه ښځی سره نکاح وکړه اوتوبه یی وکښله. نوامامت اواذان دهغه جائزدی اوکه نه؟ اوپه چا باندی چې داشبه وی چې دی زانی دی اوشاهدان باندی نه وی نو دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیری دغه ښځی دخاوند دمرګ څخه وروسته دمرګ عده یعنی څلور میاشتی اولس ورځ پوره کړی اودهغه څخه وروسته ورسره دغه سړی نکاح وکړه نونکاح صحیح سوه، اودغه سړی دبل دښځی تښتولو په وجهی سره فاسق سو، زنا ثابته وی اوکه نه وی فاسق کیدل دهغه مسلم سوه. اوس که چیری هغه دزړه په صدق سره توبه وکاړی اوآئنده دداسی خرابو کارونو څخه منع سی اوپښیمانه سی نوامامت دهغه صحیح دی اولمونځ په هغه پسی بی کراهته درست دی. اواذان کول دهغه جائز (۱) دی. فقط

دشبهی په وجهی سره دجماعت اعاده اوپه هغه کی شرکت: **سوال**: (۱۰۳۵) امام ته په لمانځه کی شبه پیدا سوه چی څه فرض یاواجب ترك سوه. امام دوباره لمونځ ورکی نوکم مقتدیان چی وروسته شامل سوی دی دهغوی لمونځ صحیح سو اوکه نه؟ یاداچی امام ته محض شبه وسی فرض یاواجب ترك نه وی دشبهی په وجهی سره یی لمونځ راوګرزوی نوکم مقتدیان چی وروسته شامل سوه دهغوی لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

جواب: که چیری دشبهی په وجهی سره لمونځ راوګرځول سو نوپه لمانځه کی دشاملیدونکو نورو سړیانو لمونځ ونه سو هغوی ته بیا لمونځ کول پکار (۲) دی.

ددوهم رکعات په قومه کی تاخیر: **سوال**: (۱۰۳۶) حنفی امام دسهار په لمانځه کی ددوهم رکعات په قومه کی دومره تاخیر کوی چی شافعی مقتدیان تقریبًا دعاءِ قنوت ختم کړی، آیا داعمل جائز دی اودحنفی مقتدی په لمانځه کی خوبه دڅه خرابی باعث نه وی. که چیری وی نو آیا په داسی امام پسی لمونځ کول پریږدو؟

جواب: امام ته رعایت د مقتدی شافعی مثلاً مستحب دی، لیکن تر هغه وخته پوری چی

---

(۵). واختار بعضهم فی کل رکعة وبعضهم سورة الفیل ای البداءة منها ثم یعیدها وهٰذا احسن (رد المحتار مبحث التراویح، ط.س. ج۲ ص ۴۷). ظفیر

(۱). قال رسول اللہ ﷺ التائب من الذنب کمن لاذنب له، (مشکوٰة باب الاستغفار والتوبه ص ۲۰۲). ظفیر

(۲). ولها واجبات لاتفسد بترکها وتعاد وجوبا الخ والمختار انه جابر للاول لان الفرض لایتکرر (درمختار) قوله المختار انه ای الفعل الثانی جابر للاول بمنزلة الجبر بسجود السهو وبالاول یخرج عن العهدة وان کان علی وجه الکراهة علی الاصح کذا فی شرح الاکمل علی اصول البزدوی (رد المحتار باب صفة الصلوٰة ص ۴۲۴ – ۴۲۶ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۵۶ – ۴۵۸، مطلب واجبات الصلوٰة). ظفیر

دخپل مذهب موافق دځه مکروه کار ارتکاب ونسی اوپه مذکوره صورة کی امام ته په قومه کی دومره طول کول چی تاخیرسجده من القومه دومره لازم سی چی موجب دسجده سهوی سی درست نه دی. لهٰذا امام ته داسی کول دمقتدیانو درعایت په وجه درست نه دی لیکن دحنفیانو مقتدیانو لمونځ صحیح دی البته په بعضو صورتونو کی دلمانځه دنقصان احتمال دی، لهٰذا ښه داده چی که چیری امام دافعل ترك نه کړی نوحنفیان دی دهغه اقتداء نه کوی. په درمختار کی دی لکن یندب للخروج من الخلاف لاسیمًا للامام لکن بشرط عدم لزوم ارتکاب مکروه مذهبه ([1]) الخ . فقط

دمتکبر اوبدعتی امامت: **سوال**: (۱۰۳۷) زید دخپل ذاتی رعونت اوتکبر په وجه سره خپل ځان ډیر پاك لمنی اوداولی درجی صوفی اوعابد اوزاهد ګڼی، مېلو ته ځی سماع ته حلال وایی، دسودخور دکور ډوډی خوری اوداهم وایی چی ماته دخوب یامراقبی په ذریعه معلومیږی چی فلانی سړی منافق دی، دریمی، لسمی وغیره ته درست وایی. دقربانی څرمنی دخپل امامت په حق کی اخیستل روا بولی، اوزکوٰة، سرسایه وغیره اخلی حالانکه په خپله صاحب دنصاب دی. دداسی سړی امامت څنګه دی. که چیری په ده پسی څوك لمونځ نه کوی نوګنهګار خوبه نه وی؟

جواب: دداسی سړی امامت مکروه دی ولی چی دی مبتدع اوجاهل دی لمونځ سره دکراهته پسی کیږی اوکه چیری په ده پسی لمونځ نه کوی نوهیڅ ګناه نسته. بلکی ښه دا ده چی په ده پسی دی لمونځ نه کوی. ([2]) فقط

امام ته دشریعت پابینده کیدل پکاردی: **سوال**: (۱۰۳۸) کم صاحبان چی دجومات امامتی کوی هغوی دی دشریعت پابینده وی اوکه درواج؟

جواب: هغوی ته دشریعت پابینده کیدل پکاردی. کم رسم او رواج چی دشریعت څخه خلاف وی دهغه پابیندی حرامه ده که چیری امام دخلاف شریعت رواج پابیندی کوی او شریعت پریږدی نوهغه دامامت لائق نه دی، هغه معزولول پکار ([3]) دی. فقط

دمستور الحال امامت: **سوال**: (۱۰۳۹) زید چی دیومشتبه حالت سړی دی چی دهغه په باره کی هیچاته پته نسته چی دی په اصل کی دکم ځای اوسیدونکی دی، څه ذات یی

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضوء ص ۱۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۱۴۷ . ظفیر

([2]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

([3]). ویکره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

دی ځومره علم یې دی، اودکم چال سړی دی، اوورسره داچې کله دهغه څخه پخپله پوښتنه وسی مثلاً داچې تاکم ځای تعلیم حاصل کړی دی نودهغه په جواب کی هغه مدرسه اسلامیه دیوبند ښیی. لیکن په تحقیقاتو سره داخبره غلطه اودروغ ثابته سویده. نوکه چیری داسی سړی دجمعی دلمونځ اواخترونو وغیره دپاره امام مقرر سی نوآیا دا جائز دی؟

جواب: که چیری دغه سړی په ظاهر حال صالح اولمونځ گذار، دمسائلو څخه خبر وی نو که څه هم په هرځای کی یی زده کړه کړی وی لمونځ په هغه پسی درست دی. اوپه حدیث شریف کی دی: صلوا خلف کل بر وفاجر الحدیث. یعنی په هریو نیك اوبدپسی لمونځ کوی. مطلب دادی چی لمونځ سره دکراهته په فاسق پسی هم کیږی که څه هم اولی بالامامت عالم اوپرهیزگار وغیره دی. غرض داچی په هغه پسی په لمونځ کولو کی هیڅ حرج نسته. (۱) فقط

دمسبوق اقتداء درسته نه ده: **سوال**: (۱۰۴۰) په جماعت کی یوسړی په دوهم یادریم رکعات کی شریك سو. دجمعی ختمیدلو څخه وروسته هم دغه مسبوق باقی پاته لمونځ پوره کوی، چی دوروسته څخه نور کسان راغلل اوپه لا علمی سره یی په مسبوق پسی نیت وتړی. اودا وینایی وکړه چی تکبیر په آواز سره وایه موږ هم ورسره شریك سو. په همدی طریقی سره یی لمونځ پوره کی نودهغوی لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

جواب: په هغه پسی دنورو اقتداء صحیح نه ده، دمقتدیانو لمونځ صحیح نه سو. کما فی الدر المختار لایجوز الاقتداء به الخ المسبوق ص ۴۰۱ جلد اول. (۲) فقط

کم گوډ چی دریدی نه سی دهغه اقتداء څنگه ده؟ **سوال**: (۱۰۴۱) یوسړی گوډ دی دریدی نه سی په ناسته لمونځ کوی. که چیری هغه امام سی نو دمقتدیانو لمونځ (کم چی دهغه څخه ښه دی اوپه ولاړه لمونځ کوی) وبه سی اوکه نه؟

جواب: په ناست پسی دولاړ لمونځ (۳) درست دی. لیکن دداسی گوډ څخه بل امام ښه دی څوك چی گوډ نه (۴) وی. فقط

---

(۱). الاحق بالامامة تقدیمًا بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحةً وفساداً بشرط اجتنابه للفواحش الظاهره وحفظه قدر فرض الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۰ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق ص ۵۵۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۹. ظفیر

(۳). وصح اقتداء متوضی لا ماء معه بمتیمم الخ وقائم بقاعدیرکع ویسجد لانه ﷺ اخر صلاته قاعدا وهم قیام (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص۵۵۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۸). ظفیر

(۴). وکذالك اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیر اولی (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط. س. ج۱ =

دغلط ویونکی په خوا کی چی صحیح ویونکی راسی او لمونځ شروع کړی نوڅه حکم دی؟

سوال: (۱۰۴۲) یوسړی ناویونکی ځوك چی دقرآن کریم الفاظ په صحیح طور سره اداء کولی نه سی فرض لمونځ اداء کوی. که چیری یوبل صحیح ویونکی په همدغه ځای باندی دهغه څخه بیل لمونځ شروع کړی نوپه دواړو پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ ځوك چی قرآن کریم صحیح نسی ویلی په هغه پسی دصحیح ویونکی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه ؟

جواب: دداسی سړی حکم دامی غوندی دی چی هغه دصحیح ویونکی امام کیدی نه سی اودصحیح ویونکی په موجودگی کی دهغه لمونځ نه صحیح کیږی. وحرر الحلبی وابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائمًا حتمًا کالامی فلا یؤم الا مثله ولاتصح صلاته اذا امکنه الاقتداء بمن یحسنه الخ هذا هوالصحیح المختار فی حکم الالثغ وکذامن لایقدر علی التلفظ بحرف من الحروف اولایقدر علی اخراج الفاء الابتکرار الخ. درمختار (۱). فقط

دجومات حق تلفی کونکی امامت: **سوال**: (۱۰۴۳) کم سړی چی امامت کوی اونور خدمت، خو دجومات حق تلفی کوی اوپخپله یی خوری، هغه دامامت قابل دی اوکه نه؟

جواب: کم سړی چی دجومات آمدن بغیر داستحقاق څخه په خپل صرف کی راولی هغه فاسق دی، امامت دهغه مکروه (۲) دی. فقط

دبدشکله، چیچک مخی اوزکوٰة خور امامت: **سوال**: (۱۰۴۴) یوسړی کوڅه گرد دی. ددوکاندارانو هم کهاته لیکی. زکوٰة اخلی، په لمانځه کی یوه پښه لوړوی، چیچك مخی او بدشکله دی، مقتدیان وریسی لمونځ نه کوی. په دی صورة کی په دغه سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په دی ذکرسوو خبرو کی هیڅ خبره داسی ذکرسوی نه ده کمه چی مطلقًا موجب دعدم جواز دامامت اودکراهت دامامت وی. البته که چیری باوجود دصاحب نصاب کیدلو زکوٰة اخلی نودا بددی اوکه چیری هغه گوډ وی چی په بعضی قدم باندی دریږی نودهغه امامت یی هم مکروه لیکلی دی اوکه چیری څه بله خبره په دغه امام کی موجب دفسق وی یاهغه مبتدع وی نوامامت دهغه مکروه دی. باقی لمونځ دهغه بهر حال کیږی

= ص ۵۲۲). ظفیر

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی الالثغ ص ۵۴۴ - ۵۴۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۲ . ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

(۱) لقوله ﷺ صلوا خلف كل بر وفاجر. الحديث الخ . فقط

په قيدي پسي لمونځ جائزدي اوكه نه؟ سوال: (۱۰۴۵) كه چيرى يو مسلمان حنفي په قيد كي وي نوپه قيدي پسي لمونځ جائزدي اوكه نه؟

جواب: په قيدى حنفي پسي لمونځ درست دى. قيدى كيدل دامامت دپاره مانع نه دى. فقط

ددروغو شاهدي وركونكي نابينا پسي لمونځ صحيح كيږي اوكه نه؟ سوال: (۱۰۴۶) يوړوند دلالچ (چل اوفريب) په وجهى سره ددروغو شاهدى وركوى اوپه طهارت اونجاست كي فرق نه كوى. په داسى ړوند پسي لمونځ كول جائزدي اوكه نه؟

جواب: كله چي دغه ړوند محتاط نه اوسى اودكبائرو دمرتكب كيدلوپه وجهى سره فاسق سو نودهغه امامت مكروه (۲) دى. فقط

دولد الزنا په اولاد پسي لمونځ درست وي اوكه نه؟ سوال: (۱۰۴۷) يوسړى حرامى وو دهغه نكاح دقرآن اوحديث دفرمان مطابق وسوه. دهغه دنطفى څخه چي كم اولاد وسو په هغوى پسي به لمونځ درست وى اوكه نه؟

جواب: كه چيرى دهغه اولاد صالح اوعالم وى نوپه هغوى پسي لمونځ صحيح دى بلا كراهته، بلكي افضل اوښه دى اوپخپله هغه سړى ولد الحرام پسي هم درست دى بلا كراهته كله چي هغه پخپله صالح وى. قال الله تعالىٰ: وَلَاتَزِرُ وَازِرَةٌ وِزرَ اُخرٰى. (۳) الآية. فقط

دعنين اقتداء جائزده اوكه نه؟ سوال: (۱۰۴۸) په عنين (يعنى نامرده) پسي دغير عنين لمونځ درست دى اوكه نه؟

جواب: په عنين پسي دغير عنين لمونځ درست دى، ولى چي فقهاوو دعنين امامت ناجائز يامكروه هيڅ ځاى نه دى ليكلى اودكمو خلګو امامت يى چي ناجائز اومكروه ليكلى دى په هغوى كي يى عنين نه دى شماركړى. وګورى درمختار (۴) وهدايه وغيره. فقط

كم شاګرد چي دخپل استاذ مخالفت كوى دهغه امامت درست دى اوكه نه؟ سوال: (۱۰۴۹)

(۱). ويكره امامة عبد الخ وفاسق الخ ومبتدع (درمختار) وكذالك اعرج يقوم ببعض قومه فالاقتداء بغيره اولى (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفير

(۲). ويكره امامة عبد الخ وفاسق (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ص۵۲۳ ج۱). ظفير

(۳). سورة بنى اسرائيل ركوع ۲. ظفير

(۴). وګورى الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰. ظفير

زید دیوجومات امام دی اودزید یو اخنبی (دخور خاوند) دی، دهغه څخه زید دوه څلور سبقونه دعربی ویلی دی. دزید اودهغه داخنبی په کورنیو خبرو کی جګړه وسوه اخنبی وایی چی زه ستا استاذ یم تازما مقابله وکړه په تاپسی لمونځ جائزنه دی ولی چی کله په شاګرد اواستاذ کی مخالفت وی نوپه شاګرد پسی لمونځ نه صحیح کیږی داصحیح ده اوکه نه؟

جواب: داخبره خوغلطه ده چی که چیری په استاذ اوشاګرد کی خلاف وی نوپه شاګرد پسی دی لمونځ جائز نه دی. البته بی وجهی ددینی علم داستاذ مخالفت اوعداوت کول اوتوهین کول معصیت دی. اوپه شامی کی دی: وقال الزندویستیؒ : حق العالم علی الجاهل وحق الاستاذ علی التلمیذ واحد علی السواء الخ وحق الزوج علی الزوجة اکثر من (١) هذا الخ ددی حاصل دادی چی دعالم حق په جاهل باندی اوداستاذ حق په شاګرد باندی برابردی اودخاوند حق دهغه په ښځی باندی ددی څخه زیات دی. فقط

دعلم غیب قائل اواحمد رضا په معتقد پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۵۰) کم سړی چی (دغیر الله دپاره) دعلم غیب قائل وی اواحمد رضا ته عقیده لری یایی مریدوی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی مبتدع دی، په هغه پسی لمونځ مکروه تحریمی دی کما فی الشامی: واماالفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامردینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا ولا یخفی انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول العلة الخ فهو کالمبتدع تکره امامته بکل حال بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لماذکرنا (٢) الخ ص ۳۷۲ جلد اول شامی ، لیکن که چیری په هغه پسی په لمونځ نه کولو کی دفتنی اندیښنه وی یاجماعت فوت کیږی، نوپه هغه پسی دی لمونځ وکړی څنګه چی په درمختار کی دی: هذا ان وجد غیرهم والا فلا کراهة ، بحر، وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة ؒ اوپه شامی کی دی: قوله نال فضل الجماعة : افاد ان الصلوٰة خلفهما اولی من الانفراد (٣) الخ. فقط

دروح نبوی متعلق عقیده اودهغه امامت: سوال: (۱۰۵۱) یوامام دمسجد وایی چی روح پُرِ فتوح دفخر عالم ﷺ په روضه انور کی یاپه مقام قرب دخداوند عالم کی دی لیکن هغه دیو مسلمان کورته یادمیلاد دمبارك ذکرپه وخت کی نه حاضریږی. اودعامو مسلمانانو

---

(١). رد المحتار مسائل شتی ص ۲۲۰ ج۵ تحت قوله وهم اولو الامر علی الاصح ، ط.س. ج۲ ص ۷۵۲ . ظفیر

(٢). رد المحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۲۳ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر

(٣). رد المحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۲۵ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفیر

متعلق هم هغه داوایی چی روح یی په مقام علیین کی درج اومقام دهغوی عالم برزخ دی، دهغوی کورونو ته په راتللو سره څه کاردی، اوپه دلیل کی دا آیت پیش کوی: اَللّٰہُ یَتَوَفَّی الْاَنْفُسَ الخ. او داولیاوو دقبرونو څخه استمداد طلب کولوته ناجائز وایی اووایی چی الله ﷻ فرمایی چی اهلِ قبور داوریدلو طاقت نه لری: وما انت بمسمع من فی القبور. اوکله چی هغه ته څوك داجواب ورکړی چی یوسړی دحضرت عائشی رضی الله عنها په خدمت کی عرض وکی چی حضور ﷺ سماع موتٰی فرمایلی ده. نوامام صاحب داجواب ورکوی چی حضرت عائشی رضی الله عنها هغه سړی ته فرمایلی وه چی ته په رسول الله ﷺ باندی دروغ وایی. اوداحدیث دبخاری ښیی. دکم امام چی داسی عقیده وی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: دامام مذکور عقیده په باره دروح مبارك دحضور ﷺ اوارواح دمؤمنینو کی صحیح ده، اواستمداد دقبرونو څخه هم درست نه دی. اوپه سماعِ موتٰی کی بیشکه حضرت عائشی رضی الله عنها صدیقی انکار کړی دی اود: مَا اَنْتُمْ بِاَسْمَعَ مِنْهُمْ تاویل یی په ما اَنْتُمْ بِاَعْلَمَ مِنْهُمْ سره فرمایلی دی، اودهمدی آیتونو: اِنَّكَ لَاتُسْمِعُ الْمَوْتٰی او وَمَا اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِی الْقُبُوْرِ څخه یی استدلال فرمایلی دی اوهمدا مذهب مشهور دامام ابو حنیفه رحمه الله دی. (۱) غرض داچی په امام مذکور پسی لمونځ صحیح دی، څه کراهت وغیره پکښی نسته. فقط

<u>**په غلطه عقیده باندی درد کوونکی امامت**</u>: **سوال**: (۱۰۵۲) امام صاحب وایی چی کم سړی داعقیده لری چی زه به تش په محفل میلاد کولو سره وبخښل سم اولمونځ زکوٰة وغیره به نه اداء کوم، نو داعقیده باطله ده بلکی الله ﷻ به دفرائضو ترك کونکی په دوزخ کی اچوی. داخبره درسته ده اوکه نه؟ اوپه داسی عقیدی والا پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: داقول دامام مذکور صحیح دی. دلمانځه، روژی اوزکوٰة فرائض پریښوول اود میلاد شریف په مجلس کولو سره دمغفرت اوبخښنی امید لرل باطل خیال اوفاسده عقیده ده. باقی په قطعی طور سره داویل چی دهغه مغفرت به نه کیږی صحیح نه دی، څنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: اِنَّ اللهَ لاَ یَغْفِرُ اَنْ یُّشْرَكَ بِهِ وَیَغْفِرُ مَادُوْنَ ذَالِكَ لِمَنْ یَّشَاءُ (۲). ماسوا

---

(۱). قال ابن همام فی شرح الهدایة اعلم ان اکثر مشائخ الحنفیة علی ان المیت لا یسمع علی ما صرحوا به فی کتاب الایمان رحمه الله مردود من عائشة رضی الله عنها قالت کیف یقول رسول الله ﷺ ذلك والله تعالی یقول وما انت بمسمع من فی القبور انك لا تسمع الموتٰی رحمه الله (مرقاة شرح مشکوٰة باب فی حکم الاسارٰی ص ۲۴۲ ج۲). ظفیر

(۲). سورة النساء، رکوع ۷. ظفیر

دكفر اوشرك څخه دټولو ګناهونو مغفرت كيدى سى كه چيرى الله ﷻ وغواړى، ها! قاعده داده چى دفرائضو تارك او دكبائرو مرتكب به په قدر دګناهونو په دوزخ كى اچول كيږى اوپه آخره كى به يى نجات كيږى. ليكن كه چيرى حق تعالى څوك همداسى بخښل وغواړى نووبه يى بخښى دوعيد څخه خلاف كيدى سى. هكذا فى الكتب المعتبره. فقط

دلا مذهبه امامت: **سوال**: (١٠٥٣) ديو سړى سره دمذهب ذكر كيدى، هغه ته مو مجموعه مولود تصنيف دمولانا اشرف على صاحب وښووى په كم كى چى آيتونه اواحاديث موجود دى. ذكرسوى سړى دذكرسوى كتاب په باره كى څو واره دا الفاظ وويل چى زه په دى كتاب باندى متيازى كوم. په ډاګه يى دا الفاظ وويل. په داسى سړى پسى لمونځ درست دى اوكه نه؟ اودغه سړى ګنهګار دى كه كافر. اوڅوك چى هندوان اومسلمانان برابر ګڼى دهغه په باره كى څه حكم دى؟

جواب: دغه سړى فاسق اوعاصى دى. ولو لا احتمال التاويل لحكم بكفره. اوپه داسى لا مذهبه پسى لمونځ درست نه دى. اوكم سړى چى هندوان اومسلمانان يوشان ګڼى هغه هم ګنهګاردى. اوكه چيرى كفر اواسلام يوشان ګڼى نوكافر دى. غرض داچى دداسى سړى دصحبت څخه ځان ساتل لازم (١) دى. فقط

دفاتحى خلف الامام قائل پسى لمونځ جائزكيږى اوكه نه؟ **سوال**: (١٠٥٤) محمود دفاتحى خلف الامام عامل دى، اودرفع اليدين اوآمين بالجهر داهل جماعت په لمانځه كى څه حرج كيږى اوكه نه؟

(**١٠٥٤** \ ٢) دفاتحى خلف الامام اورفع اليدين اوآمين بالجهر عامل كه چيرى پخپله جمعه وركوى نوآيا داهلِ جماعت په لمانځه كى دقرآن اوحديث په روسره څه حرج كيږى اوكه نه؟

جواب: (١) صرف په دى عمل سره خوداهل جماعت په لمانځه كى هيڅ حرج اوضرر نه كيږى ليكن په دى زمانه كى چونكى ددى عمل كونكى اكثره هغه خلګ دى څوك چى ددين دامامانو مقلد نه دى اومحض دخپلو خواهشاتو موافق داحاديثو په معنىٰ ځان پوهوى اوپه هغه باندى عمل كوى. ددى وجه په اكثرو احكاموكى دمخالفت نوبت راځى په دى وجهى سره حرج اوضرر كيږى (٢).

---

(١). وان انكر بعض ماعلم من الدين ضرورة كفر بها الخ فلايصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص **٥٢٥** ج١ ، ط.س. ج١ ص **٥٦١ - ٥٦٢**). ظفير

(٢). وكذاتكره خلف امرد ؒ ومخالف كشافعى لكن فى وتر البحر ان يتقن المراعاة لم يكره اوعدمها لم يصح =

(۲) دداسی سړی امامت فی نفسه جائزدی، لیکن دبعضو خارجی وجوهو په وجهی سره ورته ناجائز ویل کیږی. (۱) فقط

دغیر مقلد امام جوړول څنګه دی؟ سوال: (۱۰۵۵) محمود دحدیث نبوی په مخکی په اجتهادی مسائلو باندی عامل نه دی، لیکن دحدیث نبوی په عدم موجودګی کی داجتهادی مسائلو قائل دی. نو دداسی سړی امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: دداسی سړی امامت فی نفسه جائزدی خوچونکی په دی زمانه کی چی کم خلګ دائمه اربعه وو تقلید نه کوی اوپه خپل ګمان کی پخپله په حدیث باندی دعمل کولو دعویدار دی دهغوی بعضی افعال داسی دی کم چی دلمانځه مفسد ګرځی. مثلاً هغوی په لوټی سره اودس نه وچوی اوپه دی زمانه کی دقطری راتلل عموماً یقینی سوی دی، ددی دپاره دداسی خلګو پرتوګونه اکثره ناپاك وی. په دی وجه دی ددوی دامامت څخه احتراز وسی.

دامام فاسق کیدلو په صورة کی جمعه بیله وسی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۵۶) په کم ښار کی چی صرف یو جومات وی اودهغه امام فاسق وی نوحنفیان خلګ خپل جماعت بیل قائم کړی اوکه په هم هغه پسی لمونځ وکړی، شرعًا څه حکم دی؟

جواب: دجماعت دتفریق څخه دابنه ده چی هم په هغه پسی لمونځ وسی، څنګه چی یی په درمختار کی دنهر څخه نقل کړی دی: وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة. (۲) اوبله جمعه کول بد دی. فقط

په غیر محرمو ښځو کی دکښېنستونکی سړی امامت: سوال: (۱۰۵۷) کم سړی چی امام وی اوپه غیر محرمو ښځو کی کښینی، په هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: داسی امام کم چی په غیر محرمو ښځوکی کښینی یعنی فاسق وی په هغه پسی لمونځ مکروه (۳) دی (دغیر محرموپه سلسله کی یی لیکلی دی: فان خاف الشهوة اوشك

وان شك کره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی الاقتداء بشافعی ونحوه ص ۵۲۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفیر

(۱). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱. علامه شامی لیکلی دی: افاد ان الصلاة خلفهما اولی من الانفراد. لکن لاینال کماینال خلف تقی ورع لحدیث من صلّی خلف عالم تقی کانما صلّی خلف نبی (ردالمحتار ایضًا، ط.س. ج۱ ص ۵۶۲). ظفیر

(۳). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۶۰). ظفیر

امتنع نظره الی وجهها فحل النظر مقید بعدم الشهوة وهٰذا فی زمانهم واما فی زماننا فمنع من الشبابة، (الدر المختار علی هامش رد المحتار، کتاب الحظر والاباحة. فصل فی النظر والمس ص ۳۵۲ ج۵ ظفیر)

دباغوان اونانبای وغیره امامت: **سوال**: (۱۰۵۸) کم امام چی تنخواه داروی، دجولا قوم څخه وی، یاباغوان، یانانبای یاحجام وی نوپه داسی خلګو پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په امام تنخواه دار پسی لمونځ بغیر کراهته درست دی اوجولا اوحجام اونانبای اوباغوان وغیره که دهریو قوم څخه وی چی صالح اومتقی وی اودلمونځ دمسائلو څخه خبروی نوپه هغه پسی لمونځ بی کراهته جائزدی بلکی شیخ، سید وغیره که چیری فاسق وی نودهغوی څخه ښه دی کماقال الله تعالٰی: اِنَّ اکرَمَکُمْ عندالله اتقکم، الاٰیة. (۱) فقط

ددرواغجن سړی امامت: **سوال**: (۱۰۹۵) زید دښار قاضی وو اودجمعی اواخترونو لمونځ به یی هم ورکوی. په ښارکی دننه دزید دکورسره نژدی یوقبرستان وو اودهغه سره متصل دیوهندو کښت دی، هندو دهغه احاطه کول وغوښتل. زید چونکی دحکومتی اداري غړی (ممبر) دی هغه دتعمیر اجازه ورکړه. دغه هندو وروسته دحاصلیدلو داجازی څخه هغه قبرستان وکیندی اوپه کښتوکی یی شاملول وغوښتل اوزیدسره ددی چی دقبرستان څخه خبر وو دتعمیر اجازه یی ورکړه. خبره عدالت ته ورسیده، هلته زید ددی خبری په دروغو شهادی ورکړه چی دلته قبرستان نسته. غرض داچی بالکل یی دقبرستان څخه انکار وکی اوپه همدی وجهی سره هغه قبرستان هندو ته ورکول سو. په دی صورة کی زید امام جوړول اوپه هغه باندی نکاح تړل درست دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی زید فاسق دی، هغه امام جوړول اوپه هغه باندی نکاح خوانی کول اوهغه مقتداء ګڼل درست نه دی اوپه هغه پسی لمونځ مکروه تحریمی (۲) دی. فقط

دچاچی راسته لاس وچ وی اوټول کار په چپه لاس سره کوی دهغه امامت: **سوال**: (۱۰۶۰) اگر کسی شخص را یدِ یمنٰی خشك شده محض بیکار شده باشد وکلوخ واستنجاء ومضمضه واستنشاق ووضو واکل وشرب وغیره افعال حمیده وقبیحه بید یسرٰی می نماید وطبائع ناظرین ازو متنفر می شوند این چنین شخص قابل امامت هست یانه ؟

جواب: امامت این چنین شخص مکروه تنزیهی یعنی اولی است اگر مقتدیان ازو تنفر کنند: فی الشامی وکذا اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولی وکذا اجزم ومجبوب وحاقنٌ ومن

---

(۱). الحجرات . ظفیر

(۲). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (درمختار) بل مشی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰). ظفیر

له يد واحدة الخ والظاهر ان العلة النفرة الخ ([1]). فقط

دبدو کلماتو ویونکی امام کیدل څنګه دی؟ سوال: (۱۰۶۱) که چیری یو مسلمان حافظ دقرآن دلمانځه اوروژی پایبند دیوځو مسلمانانو په مخکی په لوړ آواز سره نوم واخلی اووایی چی که چیری خدای ﷻ دفلانی مولوی مردود په وجهی سره جنت راکوی نوزه به یی هیڅکله قبول نه کړم بلکی ددی خبیث په عوض کی ددوزخ خواهشمند یم. اومولوی موصوف پرکم باندی چی لفظ دمردود وویل سو داسی په ټولو صفتونوموصوف وی چی دنیمی دنیا خلګ یی ښه ګڼی اواعتقاد ورسره هم لری. داسړی دکمی ګناه مرتکب سو او په ده پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: معصیت کیدل ددی ښکاره دی اوپه داسی کلماتو کی بیره دکفر ده، دتوبی کولو څخه بغیر په ده پسی دلمانځه کولو څخه احتراز وکی اوکه چیری دی ملا وی نوددی حدیث مصداق دی: ان من شر الشر شرار العلماء ([2]). چی دټولو څخه بدتر شریر علماء دی. نوچاته چی حضور ﷺ بدتر وفرمایی. نوهغه ته بدتر ویل بی ځایه نه دی. فقط

په معذور پسی دغیر معذورینو لمونځ درست نه دی: سوال: (۱۰۶۲) زید ته دبادو عارضه ده اوهغه خپل لمونځ پوره نسی کولی که چیری سنت په اوداسه کی وکړی نوفرض وغیره نسی کولی. که چیری څوك بل سړی ددی قابل نه وی چی امامت وکړی نوزید امام کیدی سی اوکه نه؟

جواب: که چیری هغه دمعذور درجی ته رسیدلی وی نو دهغه امامت دغیر معذورینو دپاره صحیح نه دی. او دمعذور تعریف ابتداءًا دادی چی دلمانځه په ټول وخت کی ورته دومره وخت پیدا سی چی اودس وکړی اوفرض لمونځ بغیر ددغه حدث څخه اداء سی. نو که چیری هغه داسی سوی وی نوپه هغه پسی به دغیرمعذورینو لمونځ نه صحیح کیږی. ([3]) فقط

داصطلاحي وکیل امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۶۳) یوسړی مولوی دلمانځه روژی پایبنده دی خودهغه کسب وکالت دی. ددروغ اورشتیا هرقسم مقدمو پیروی کوی، ددی څخه علاوه حرفونه په قرآئت کی اداء کولی نسی بلکی په بعضی ځای کی دولاړ اوپروت حرف هم لحاظ نه صحیح کیږی. دصاد په ځای سین اودضاد په ځای دال اداء کوی. داسی سړی دامامت لائق دی اوکه نه؟

([1]). مشکوٰة کتاب العلم ص ۳۷ فصل ثالث. ظفیر

([2]). ولاطاهر بمعذور (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸). ظ

([3]). ولاطاهر بمعذور (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸). ظ

جواب: داسی سړی دامامت لائق نه دی، ولی چی دامامت دپاره اولاً دلمانځه دمسائلو ځخه خبر کیدل اودقرآن کریم صحیح ویل ضروری دی. ثانیًا دامام صالح اومتقی کیدل نبه دی. نودغه سړی کم چی دخلاف شرع احکامو مرتکب دی اودباطل تائیدکوی اوقرآن شریف صحیح نه وایی دی دامام جوړولو لائق نه دی. (۱) فقط

دفاسق پیر امامت جائز دی اوکه نه؟ **سوال:** (۱۰۷۴) یك پیر امام مسجد است روزی یك مقتدی ازو پرسید که امروز بکدام کار رفته بودید؟ جواب دادکه امروز یك خوگ راختم قرآن بود درانخانه ختم قرآن خوانده ام وآن خوگ دیگر خوگان جمع نمود آن نیز ختم قرآن خواندند آن صاحب ختم عین خوگ است وصاحبان ختم بغیر من خوگان اند. این چنین پیر چه حکم دارد ونماز خلف او جائز است یا چه ؟

جواب: این چنین پیر یا وه گو لائق مقتدا بودن وامام شدن نیست نماز خلف چنین کس مکروه است وحسب تصریح فقهاء آن کراهت تحریمی است: لان فی جعله امامًا تعظیمه وتعظیم الفاسق حرام، پس باید که آن امام رامعزول کنند وکسی دیگر صالح خبر مسائل نماز را امام مقرر کنند (۲). فقط

ځوک چی په میلاد کی نه شریکیږی دهغه امامت: **سوال:** (۱۰۷۵) یوسړی دوهابی فرقی دحنفیة اهل سنت والجماعت دجومات دیوځو ورځو ځخه امام دی، په حُسنِ اتفاق سره دغه جومات ته دوو عالمانو واعظانو تشریف راوړی اوپه وعظ کی یی درسول الله ﷺ حمد اوثنا بیان کړه. دجومات امام په هغوی پسی لمونځ کول پرینبوول. هم دغه شپی ته یو سړی پرخپل کور باندی په راتلونکی مولوی صاحبانو باندی دمولود شریف مجلس وکی. دجومات امام پکښی شامل نه سو. او دذکر سوی امام پلار به په دوډئ باندی فاتحه ورکول بد ګڼل. نوپه دی صورة کی په داسی سړی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: داصحیح ده چی دنن صبا په مجلس دمیلاد شریف کی چونکی ډیری ناجائزی خبری شاملی دی، ددی وجه په دی کی شرکت جائزنه دی. مثلاً ضعیف اوموضوع روایات بیانیدل، اودحضور ﷺ دولادت دذکر کیدلو وخت کی دقیام خاص والی کم چی ثابت نه

(۱). والا حق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة وحفظه قدر فرض وقیل واجب وقیل سنة ثم الاحسن تلاوةً وتجویدا للقرآة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۷). ظفیر

(۲). واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب اهانته شرعًا الخ بل مشٰی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تریحم لما ذکرنا (رد المحتار باب الامامة ص۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

دی، همدغه رکم ډیر کارونه په دی کی ناجائز دی کم چی دحضرت مولانا گنگوهی قدس سره اوحضرت مولانا احمد علی سهارنپوری دفتوٰی څخه ښکاره دی، کمه چی چاپ سوی اوشائع سویده، هغه ضرور وگوری. اوپه ډوډی باندی فاتحه هم بی دلیله ده ددی هیچیری ثبوت نسته. په دی وجهوسره به دجومات امام یادهغه پلار دفاتحه خوانی څخه اودمیلاد شریف په مجلس کی دشرکت کولو څخه احتراز کړی وی نودا خبره موجب دطعن نه ده. فقط

دعرس کونکی اوسینما کتونکی امامت: **سوال**: (۱۰۲۶) کم عالم چی سینما یاعرس وغیره ته ځی په هغه پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: په هغه پسی لمونځ مکروه (۱) دی؟ فقط

په سود قرض اخستونکی او دشیعه گانو سره دتعلق ساتونکی امامت: **سوال**: (۱۰۲۷) یوسړی په سود قرض اخلی اوکمه معامله چی دشیعه گانو، سنیانو وی په هغه کی په هر شان دشیعه گانو امداد کوی اودسنیانو مخالفت کوی داسی سړی امام مقررول اوپه هغه پسی لمونځ کول څنگه دی؟

جواب: داسی سړی لائق دامام جوړولو نه دی اولمونځ په هغه پسی مکروه دی. (۲)

دږیری خلاف قولاً او عملاً دمظاهره کونکی امامت: **سوال**: (۱۰۲۸) یو مولوی صاحب دیو جومات امام اوخطیب دی. محدث اوطبیب دی. ږیره کونډی ساتی اوپه اثبات دمدعا کی وایی چی ږیره ساتل دیو صحیح واجب العمل حدیث څخه ثابت نه دی. خریل یا دموټ څخه زیات پرې کول حرام خوڅه کړی چی مکروه تحریمی هم نه دی اوکله کله دجوش اوجذبی په وخت کی داهم وایي چی دږیری خریونکو دوستانو سردار او پیشوا یم. ږیره خریل یاپرې کول حرام دی یامکروه. قبضه دیو حدیث څخه ثابته ده اوکه نه؟ او دداسی سړی امامت درست دی اوکه نه؟

جواب: په صحیح حدیث کی دږیری اوږدولو اوساتلو حکم دی لکه څنگه چی دمسلم په حدیث کی دی: عشر من الفطرة قص الشارب واعفاء اللحية (۳). الحديث ددی څخه دږیری لنډول حرام ثابت سو. او فقهاوو ږیره خریل او دموټی څخه کمه لنډول حرامه لیکلی ده: کما فی الدر المختار ولذا يحرم على الرجل قطع اللحية الخ. والسنة فيها

---

(۱). وکره امامة العبد والاعرابي والفاسق والمتبدع (کنز) والفاسق لامر دينه (البحر الرائق باب الامامة ص ۳۶۹ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۳۴۸). ظفير

(۲). ويكره تقديم العدة ؓ والفاسق لانه لايهتم لامردينه (هدايه باب الامامة ص ..... ج۱). ظفير

(۳). قال رسول الله ﷺ اوفروا اللحى (مشكوٰة باب الترجل ص ۳۸۰). ظفير

القبضة (۱) الخ. نومعلومه سوه چې ږیره دموټ څخه کمه لنډول یاخریل حرام دی. او د دغه سړی داوینا چې ږیره ساتل دهیڅ صحیح حدیث څخه ثابت نه دی اوخریل اودموټ څخه کم لنډول حرام اومکروه نه دی بالکل غلطه ده، اوامامت ددغه سړی مکروه تحریمی دی ولی چې دی فاسق دی اوامامت دفاسق مکروه تحریمی دی کذا فی الشامی (۲) فقط

<u>چې په مقرر وخت باندې امام راونه رسیږي نوڅه دې وسي؟</u> سوال: (۱۰۶۹) په کم ځای کی چې امام مقرر دی اودلمانځه وخت هم مقرر دی که چیری امام په څه وجه سره په وخت باندی رانه سی نوڅه دی وسی؟

جواب: په داسی حالت کی چې ترڅومره پوری مناسب وی او دمقتدیانو حاضرینو سره وخت وی دامام انتظاردی وسی اوکله چې حاضرینو ته حرج وی نو انتظار نه کول هم درست دی اودانتظار ګنجائش ترهغه وخته پوری دی چې وخت مکروه نسی (۳). فقط

<u>غیر مقلد څنګه دی او دهغوی امامت جائزدی اوکه نه؟</u> سوال: (۱۰۷۰) کم خلګ چې آمین بالجهر وایی اورفع یدین کوی اوپه سینه باندی لاسونه تړی اوپه امامانو کی دچا تقلید نه کوی دوی څنګه دی؟

جواب: دعامی دپاره تقلید دیو امام ضروری دی، کنی دخپلی رایی چلولو او دخواهشِ اتباع په وجهی سره اکثره ګمراه کیږی څنګه چې دموجوده زمانی دغیر مقلدینو احوال لیدل کیږی. لوی لوی عالمان هم دمجتهدینو دتقلید څخه مستثنٰی سوی نه دی، ائمه حدیث، ائمه فقه ته وګوری چې ټول په ټوله مقلدین تیر سوی دی. موږ ګورو چې غیر مقلدین په ژبی سره خودعوٰی دعمل بالحدیث والقرآن کوی لیکن داسی متبع وی چې داجماع (۴) دمخالفت هم پروا نه کوی، محرمات شرعیه په خود رایی سره حلالوی. په (۵) عقائدو کی دسلفو څخه خلاف خبری راباسی. بعضی متعی (۶) ته جائز وایی.

---

(۱). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ج۵ ص۳۵۹، ط.س. ج۱ ص۴۰۷.

(۲). واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه الخ بل مشٰی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم (رد المحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰). ظفیر

(۳). ویجلس بینهما بقدر مایحضر الملازمون مراعیا الوقت الندب الا فی المغرب الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الاذان ص .... ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۸۹). ظفیر

(۴). وګورئ عرف الجادی ص ۳ اجماع چیزی نیست ، وهدیة المهدی ص ۸۲ ج۱ وص۸۳ ، وبدور الاهلة اودلیل الطالب وروضه ندیه وغیرها من کتب اهل الحدیث.

(۵). ددی دپاره دهدیة المهدی جزء اول مطالعه کول پکاردی .

(۶). وګوری مقاصد الامامه اورساله عقائد فاسده مصنفه اهل حدیث واخبار اشاعة السنة وغیرها وهدیة =

بعضی دڅلورو څخه دزیاتو ښځو (۱) سره په یو وخت کی نکاح ته جائز وایی. بعضی مطلقه ثلاثه (۲) په کلمه واحده بې له حلالوالی نکاح اورجعت جائز ګڼی، سلفو صالحینو ته بدرد ویل ددوی شعاردی. (۳) داسی خلګ په اهل سنت والجماعت کی داخل نه دی اولمونځ په دوی پسی مکروه تحریمی دی. البته دکمو غیر مقلدینو اختلاف چی صرف په فرعی مسائلو کی دی هغوی په اهل سنت والجماعت کی داخل دی اولمونځ په هغوی پسی بشرط مراعاة فی مواقع الاختلاف درست اوصحیح دی. والله تعالی اعلم

په ناجائز طور باندی دحق خوړونکی امامت درست دی او که نه؟ سوال: (۱۰۷۱) زید دیو جومات امام دی، اوجبرًا دخپل ګاونډی حق خوړل غواړی، اودکور دروازه مخ ته وړاندی کوی اوخپل صحن زیاتول غواړی او ددروغو دقبضې ثابتولو دپاره قسم اخلی. آیا دا قسم درست دی اوکه نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: دسوال دصورة څخه معلومه سوه چی زید په دروغ قسم اخستی دی او دبکر حق یی خوړلی دی، اومبتدع هم دی. دداسی سړی امامت مکروه تحریمی دی. کما فی الشامی: فهو کالمبتدع فتکره امامته بکل حال، بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا (۴). فقط والله تعالی اعلم

ځوک چی نوی مسلمان داختر په لمانځه کی شریکیدلو ته نه پریږدی هغه څنګه دی، دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۷۲) ددین علماء څه فرمایی دداسی سړی اقتداء او دکفر اواسلام په نسبت ځوك چی یو غریب نوی مسلمان سند یافته کمینه اورذیل ګڼی او داختر په ورځ یی دمسلمانانو دجماعت څخه باسی اوپه دغه مجمع کی یی لمونځ ته نه پریږدی بلکی په ټولو جوماتونو کی یی لمونځ ته نه پریږدی؟

(۲) کم خلګ چی تعصبًا دشاهی عیدګاه درونق دخرابولو دپاره دګورستان په جومات کی لمونځ کوی دداسی حضراتو داقتداء متعلق څه حکم دی؟ اوکه چیری په یو ښار کی داختر لمونځ دوه ځایه کی کیږی یو دقبرستان په جومات کی دکم پیش امام چی مخکی ذکرسوی صاحب وی اوبل ځای په عیدګاه کی کیږی، کم امام صاحب چی دائم السکر او

= المهدی ص ۱۱۲ ج۱). ظفیر

(۱). وګوری ظفر اللاضی بما یجب فی القضاء علی القاضی ص ۱۴۱ مؤلفه نواب صدیق حسن خانصاحب نقلا عن وبل الغمام للشوکانی.

(۲). وګوری عرف الجادی ص ۱۲۳ وغیرها. کتب اهل حدیث.

(۳). وګوری افادة الشیوخ والبنیان المرصوص وغیرها کتب اهل حدیث. مهدی

(۴). رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۳، ط. س. ج۱ ص ۵۲۰. ظفیر

دطلاق اوعدی څخه بغیر په حالت دحمل کی داجرت په طمع دښځی نکاح دبل سړی سره دتړلو عادی اومجوز وی په داسی موقعه باندی دمذکوره بالا وجوهاتو په وجه اوبل درفع فساد په غرض اوبل په دی خیال چی: هیچ آفت نرسد گوشه تنهایی را، په خپل جماعت سره په ښارکی په دریم ځای کی لمونځ کوی نودا لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اودا لمونځ دهغه ددریم لمونځ خطبه درياست درئيس په حق کی سپیره اوضروری ده اوکه بختوره اومحموده؟ او ددی لمونځ دمنحوس اومضر ښوونکی دپاره په شریعت کی څه حکم دی؟

جواب: (۱) دهيڅ يومسلمان خواه که هغه قديم الاسلام وی يانوی مسلمان، بی وجهی تحقير اوتذليل کول او دجومات څخه ايستل حرام اوناجائز دی. مرتکب دداسی کارونو فاسق دی، لمونځ په هغه پسی مکروه دی.

(۲) عیدگاه پریښوول اودقبرستان په جومات کی داختر لمونځ اداء کول مکروه دی. په خپلو کی داختلاف اوشقاق اونفاق څخه پرهيز کول لازم دی. په حديث شريف کی دی: صلوا خلف کل بر وفاجر. په فاسق پسی لمونځ که څه هم مکروه دی لیکن دتفرقی اچولو څخه داښه دی چی په فاسق پسی لمونځ وکړی ځکه چی فتنه اوفساد په سخت والی کی زيات دی [1]. قال الله تعالىٰ: والفتنه اشد من القتل [2]. فقط

<u>دنورو دحق خوړونکی امامت جائزدی اوکه نه؟</u> سوال: (۱۰۷۳) علماء ددين په دی باره کی څه فرمايی چی يوسړی جاهل مطلق دی. دخپل نژدی سړی مزکه يی دروپو، سوتی اوسړو په زور سره لاندی کړيده، هروخت مرگ ته اوجنگ ته تياردی، بد معاشيانی کړی دی، دانگريزی سرکار سزا يافته دی په جيل خانو کی يی ژوند تير کړی دی. دبل په مزکه يی کور جوړکړی دی. اوس هغه خلگ خووفات سوه، دهغوی اولاد په همدغه طريقه باندی دی. يعنی په زور ښوولو سره دخلگو سره گذاره کوی، په دې خلگو کی زنا هم کيږی. سردار يې دحافظ په نوم سره مشهوره دی. خوپه حقيقت کی حافظ نه دی، اووايی چی زه دشرعی پايبنده يم، خوپه کمه مزکه باندی چی دهغه والد وغيره کور جوړکړی وو په هغه باندی هم هغه رکم قابض دی اوپه ظلم باندی ملاتړلی دی. دشرعی له لحاظه په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اودهغه شرعی حکم څه دی؟

---

(۱). وفی النهر عن المحيط صلى خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة اهـ (در مختار) افاد ان الصلاة خلفهما اولى من الانفراد لكن لا ينال كما ينال خلف تقى ورع اهـ ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** - **۵۶۰** ردالمحتار.

(۲). بقره. ۲۴ ، ظفير ، وفى العالمگيرية ص ۱۴۰ ج۱ الى الجبانة فى صلوة العيد سنة وان كان يسعهم المسجد الجامع على هٰذا عامة المشائخ. جميل الرحمٰن

جواب: کم سړی چی په ناحقه دبل مسلمان مزکه لاندی کړی اوپه هغه باندی یی کور جوړ کړی دی اوقابض دی شرعًا گنهگار اوفاسق دی، دهغه امامت مکروه دی. یو نیك مسلمان چی دلمانځه دمسائلو څخه خبر وی امام جوړول پکار دی. فقط والله تعالٰی اعلم.
(ویکره الی قوله) وفاسق الخ (درمختار) المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزانی واکل الربا ونحو ذالك کذا فی البرجندی اسمٰعیل وفی المعراج قال اصحابنا لا ینبغی ان یقتدی بالفاسق الا فی الجمعة لانه فی غیرها یجد امام غیره آه (رد المحتار ص **۵۲۳** ج۱) ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا آه (شرح المنیة)

خوک چی دلمانځه ارکان نه پیژنی هغه دامامت لائق دی اوکه نه؟ **سوال**: (**۱۰۷۴**) یوسړی حافظ دقرآن دی اودسوداگری کسب کوی. لیکن دلمانځه ارکان نه پیژنی. داسی سړی دامامت لائق کیدی سی اوکه نه؟

دامام جوړیدو څه شرائط دی: (**۲\۱۰۷۵**) دامام دپاره دکمو کمو خبرو سته والی ضروری دی، په کمو سره چی هغه دامامت لائق کیدی سی؟

جواب: (۱و۲) ښه داده چی امام دلمانځه مسائل پیژنی، قرآن کریم صحیح اوعمده وایی، صالح اوپرهیزگاره وی، که چیری ددی خبرو سره حافظ دقرآن هم وی نوډیره ښه ده، خودا خبره مخکی ده چی دلمانځه مسائل پیژنی دپاره ددی چی په لمانځه کی څه داسی غلطی ونه کړی په کمی سره چی لمونځ فاسد یامکروه سی. فقط (والاحق بالامامة الاعلم باحکام الصلاة ثم الاحسن تلاوة للقرآئة ثم الاورع ثم الاسن ثم الاحسن خلقا ثم الاحسن وجها ثم الاشرف نسبا الخ (تنویر الابصار ص **۵۲۰**)

دطلاقی سوی ښځی ساتونکی سړی امامت جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (**۱۰۷۶**) یو سړی دجومات امام دی هغه خپلی ښځی ته طلاق ورکی خوتراوسه پوری یی په کورکی ساتلی ده اودطلاق څخه وروسته یی دهغه څخه بچی هم پیداسوی دی. مقتدیان وایی چی په ده پسی زموږ لمونځ صحیح کیږی، دطلاق ورکولو گناه امام ته وسوه. خویوه ورځ یوسړی دجماعت څخه بیل سو اووی ویل چی زما لمونځ په ده پسی نه صحیح کیږی. نوامام صاحب وویل چی دی کافردی. پوښتنه ددی خبری کوو چی په دی امام پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟ اوهغه چی ورته کافر وویل، ددی څه حکم دی؟

جواب: که چیری دغه امام خپلی بی بی ته رجعی طلاق ورکړی وو نورجوع کول بغیر دنکاح څخه جائزدی. اوکه چیری بائن (یا مغلظ طلاق) یی ورکړی وو نوددغه ښځی بغیر دنکاح دتجدید (یاحلالی) څخه ساتل درست نه دی. اوکه چیری هغه داسی کړی وی نو په هغه پسی به لمونځ مکروه وی ولی چی هغه فاسق دی اودمعزولولو قابل دی. اودامام

یومقتدی ته کافر ویل گناه کبیره ده هغه ته توبه کښل پکار دی. فقط والله تعالی اعلم.
کتبه عزیز الرحمٰن

(ویکره الی قوله) وخلف فاسق الخ فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا الخ ردالمحتار ص ۵۲۴ ج۱. مهدی (عن ابی ذر قال قال رسول الله ﷺ لایرمی رجلاً بالفسوق ولا بالکفر الا ارتدت علیه ان لم یکن وصاحبه کذالك. رواه البخاری (مشکوٰة باب حفظ اللسان. جمیل)

<u>دیو اجتماعی مصلحت په وجهی سره خارجی امام جوړول درست دی</u>: سوال: (۱۰۷۷) څه فرمایی ددین عالمان په دی مسئله کی چی ددی ځای په مسلمانانو کی دټولو کفارو او نصارٰی وو دحملی په وجهی سره دټولو اسلامی فرقو لکه خوارج اوشیعه اوشوافع او احنافو په دی خبره باندی اتفاق سوی دی چی موږ ټول به په شریکه په یوسړی پسی چی سلطان دی اودخوارجوڅخه دی،داخترونولمونځ به اداء کوو، په داشان دشوافعو اوشیعه ګانو عالمانو فتوٰی ورکړیده او دستخطونه یی کړی دی او په دغه سلطان پسی یی داخترونو لمونځ کول منظور کړی دی. چونکی دلته څوك دحنفی مذهب عالم نسته په دی وجه سره داحنافو عالمانو څخه پوښتنه کوو چی احناف په دی کی شریك اوسی اوکه نه؟

جواب: خوارج داهلِ بدعت څخه دی اوپه مبتدع پسی په لمانځه کی اقتداء کول مکروه تحریمی دی. په رد المحتار کی دی فهو (الفاسق) کالمبتدع تکره امامته بکل حال بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم شامی (ص ۵۲۳ ج۱) لیکن په دوو حالتونو کی جائزدی یو داچی بل امام دچا امامت چی مشروع (اوغیر مکروه) وی پیدانه سی، اودا هم دنه پیدا کیدلو په حکم کی دی چی دبل امام په مقررولو کی فتنه وی، قال فی الدر المختار: هٰذا ان وجد غیرهم والا فلا کراهة. درمختار ص ۵۲۵ ج ۱، بل حالت دادی چی هغه امام شرعًا واجب الاطاعت وی. مثلاً سلطان المسلمین نافذ الامر وی اوهغه حتمًا خلګو ته په خپل ځان پسی دلمانځه کولو حکم ورکړی، فوجوب طاعة اولی الامر مسلم، اودکراهت په حالت کی هم دمنفردًا (یوازی) لمونځ کولو څخه په هغه پسی لمونځ کول ښه دی. قال فی الدر المختار: فان امکن الصلوٰة خلف غیرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولی من الانفراد، شامی ص ۵۲۳ ج۱ (اشرف علی) بیشکه چی دسلطان دحکم کولو په صورة کی یاکه دبل چا په امام جوړولو کی فتنه وی نوپه دی صورة کی په همدغه سلطان پسی لمونځ کول پکاردی څنګه چی دذکر سوو آیتونو مفاد دی. فقط والله تعالی اعلم

دتوبې څخه وروسته د ګنهګار امامت څنګه دي؟ سوال: (۱۰۷۸) يوسړی ډير ګنهګار دی ليکن هغه توبه کاړی نوامامت دهغه درست دی اوکه نه؟

جواب: په داسی حالت کی کله چی هغه توبه کاړی امامت دهغه درست دی اودهغه دکور خوراك درست دی فقط (لقوله ﷺ الصائب من الذنب كمن لاذنب له. رواه ابن ماجه. مشكوٰة ص ۲۰۲ جميل الرحمٰن) ، واخرجه لفسق وخيانة فبعد مدة تاب الى الله واقام بينة انه صار اهلا كذالك فانه يعيده. عالمګيری مصری جلد ۲ ص ۲۳۹.

دجَذامی اوسودخور امامت: سوال: (۱۰۷۹) دجذامی اوسود خور امامت جائزدی اوکه نه؟

جواب: دجذامی اوسود خور امامت مکروه دی. که چيری لمونځ ورکی نوفرض به اداء سی. كذا فی كتب الفقه ([1]). فقط كتبه اصغر حسين. الجواب صحيح، عزيز الرحمٰن عفی عنه.

دغلا دحيوان ذبح کوونکی امامت: سوال: (۱۰۸۰) ديو سړی ښځه بی پردی په هر ځای کی ګرځی اوهغه پخپله هم دغلا حيوانان حلالوی، اوددی څخه علاوه امامت هم کوی. دداسی سړی امامت شرعًا څه حکم لری؟

جواب: دداسی سړی امامت مکروه تحريمی دی. ([2]) فقط كتبه رشيد احمد عفی عنه، الجواب صحيح، عزيز الرحمٰن عفی عنه.

چی دچا پاکی او ناپاکی مشتبه وی دهغه امامت: سوال: (۱۰۸۱) يو جومات لاوارث په کم کی چی دهيڅ قسم آمدن نسته په هغه کی يوسړی چی دهغه عمر دوه ويشت کاله دی لمونځ ورکوی، هغه ته دسخت جريان عارضه ده اوقطره هم ورته راځی په لمانځه کی او دلمونځ څخه دباندی. اوحافظ هم نه دی، قرآن ورته لږ څه ياد دی، دهغه پاکی اوناپاکی ټيك نه ده. مسائل هم ورته په ښه شان يادنه دی. کله چی هغه په سفرځی نولمونځ ګذار کم سی اوخلګ دهغه امامت نه ترك کوی. بعضی خلګ دهغه په امامتی باندی خوشحاله نه دی. خو خيال دادی چی لمونځ ګذار به بيادی جومات ته نه راځی ولی چی هغوی دا وايی چی که چيری دده په ځای بل امام مقرر سو نوموږ به دلته لمونځ بالکل نه کوو. فقط والسلام خير ختام.

جواب: داسی سړی دچا پاکی اوناپاکی چی مشتبه ده اودمسائلو څخه هم ناخبره دی امام

([1]). وكذا تكره خلف امرد وسفيه ومفلوج وابرص شاع برصه وشارب الخمر واكل الربوا. شامی ص **۵۲۵** ج ۱، ط.س. ج۱ ص **۵۶۲** . جميل الرحمٰن غفرله

([2]). قال فی الدر المختار وتكره امامة عبد وفاسق. وقال فی شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم لما ذكرنا ص **۵۲۳** ج۱. احمد علی سعيد ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** .

مقررول نه دی پکار. اوپخپله هغه ته هم امام جوړیدل مناسب نه دی. بلکی کله چی په لمانځه کی دقطری وغیره راتللو گمان غالب وی نوبالکل گرسره جائزنه دی اوکم خلگ چی عذاب په خپله ذمه اخلی او دهغه په امام جوړولو باندی ټینگوالی کوی دهغوی دخبری هیڅ اعتبار نسته ځکه چی دهغوی قول دشریعت دحکم څخه خلاف دی اوکه دداسی سړی په امام جوړیدلو سره دلمانځه گذارو ډیروالی اولمونځ نه ورکولو سره دلمانځه گذارو کموالی راځی نوپه دی باندی څه شرعی حکم نه لگیږی اوپه دی وجهی سره دامامت مستحق کیدی نه سی ولی چی دادخلگو ناخبرتیا ده. هٰکذا یفهم من کتب الشریعة (۱) المحمدیة صلی الله علی صاحبها، والله تعالیٰ اعلم. کتبه الفقیر اصغر حسین عفی عنه. الجواب صحیح بنده عزیز الرحمٰن عفی عنه.

دولد الزنا امامت: **سوال**: (۱۰۸۲) یوسړی چی موریی بی نکاحه وی اوپلار دهغه داگنهی چی مینځه بی نکاحه مباح ده اوبیا وروسته دهغې سره نکاح وکړی اوهلته دهغه څخه ماسوا بل څوك دعلم خاوند نه وی چی امامت وکړی سی نو دداسی سړی کم چی سعادت مند اوپه هرشان سره لائق وی امامت درست دی اوکه نه؟

جواب: ذکرسوی سړی امام مقررول ښه دی کله چی هغه په قوم کی اعلم اوافضله وی، هیڅ خرابوالی دهغه په امامت کی نسته قال فی الدر المختار، باب الامامة: والاحق بالامامة الاعلم باحکام الصلوٰة فقط صحة وفسادا بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة الخ قال الشامی قوله بشرط اجتنابه الخ کذا فی الدرایة عن المجتبٰی وعبارة الکافی وغیره الاعلم بالسنة اولا الا ان یطعن علیه فی دینه (۲) الخ. فقط رشید احمد عفی عنه

الجواب صحیح قال فی الشامی عن البحر وغیره ولوعدمت ای علة الکراهة بان کان الاعرابی افضل من الحضری والعبد من الحر ولد الزنا من ولد الرشدة والاعمٰی من البصیر فالحکم بالضد (۳). الخ

دفاسق اوفاجر تعریف اودهغه امامت: **سوال**: (۱۱۱۰۸۳) فاسق اوفاجر چاته وایی؟ په داسی سړی پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

---

(۱). والاحق بالامامة تقدیمًا بل نصبًا الاعلم باحکام الصلوٰة فقط صحةً وفسادًا بشرط اجتنابه الفواحش الظاهرة الخ درمختار علی هامش الشامی ص ۵۲۰ ج۱ ویؤیده تعلیل کراهة امامة الفاسق قال فی الجوهرة ص ۵۸۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰، لانه لایهتم بامر دینه والاعمٰی لانه لایجتنب النجاسة وما فی الدر المختار فی بیان کراهة امامة المخالف ان تیقن المراعاة لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره ص ۵۲۲ علی الشامی ، جمیل الرحمٰن ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ .

(۲). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر

(۳). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفیر

چې دمقرر امام څخه علاوه بل څوک امام جوړسي لمونځ شروع کړي او امام راسي نوهغه دي څه وکړي؟ (۲\۱۰۸۴) که دمحلی امام دڅه عذرپه وجه دلمانځه په وخت کی جومات کی نه وی اولمونځ گذار بل څوك امام کړی اولمونځ شروع کړی، بیا امام راسی نوهغه په جماعت کی شريك سی اوکه نه؟ او ددغه خلگو لمونځ به صحيح سی اوکه نه؟

په هرمسلمان پسی لمونځ جائزدي؟ (۳\۱۰۸۴) آیاپه هرمسلمان پسی لمونځ صحيح کیږی؟

په امامت کی دعلم اعتبار دی اوکه دذات؟ سوال: (۱۰۸۵ \۴) دامامت دپاره دذات لحاظ دی اوکه دعلم؟

جواب: (۱) فاسق هغه چاته وایی چی دشریعت داوامرو پریښوونکی وی اودمنهیاتو ارتکاب کونکی وی، برابره خبره ده که دبعضو یاداکثرو یادټولو. اودفاجر څخه هم دغه مراد دی. امامت دداسی سړی مکروه تحریمی دی، لمونځ په هغه پسی صحیح کیږی خو مکروه کیږی. ([1]) فقط

(۲) په صورت مسئوله کی دټولو مقتدیانو لمونځ په بل امام پسی درست سو اوذکر سوی امام ته هم په جماعت کی ضرور شریکیدل پکاردی.

(۳) لمونځ په هرسړی پسی درست کیږی. که څه هم دامام اعلم اومتقی کیدل هم ضروری اوښه دی.

(۴) په امامت کی مقدم لحاظ دعلم دی. دعلم سته والی دضروریاتو څخه دی.

فقط رشید احمد. الاجوبة صحيحة. دستخط ، مهر (ټاپه)

دفیشنی اوپه یوه سترگه ړوند سړي امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۸۲ \ ۱) امام په یوه سترگه ړوند کیدل. په ورځ کی دری واره جوړی بدلوی، دهغه داکار څنگه دی او په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

دليوني امامت: **سوال**: (۱۰۸۷) کم سړی چی کله کله لیونی کیږی دهغه امامت درست دی اوکه نه؟

جواب: (۱) پیش امام عالم په مسائلو پوه اوصالح پرهیزگار کیدل پکار دی. په امام موجوده کی څه خبره دسوال په رو سره داسی معلومه نه سوه چی په هغه پسی لمونځ

([1]). كره امامة الفاسق والفسق لغة خروج عن الاستقامة وهو معنى قولهم خروج الشيئ عن الشيئ على وجه الفساد وشرعًا خروج عن طاعة الله تعالى بارتكاب كبيرة قال القهستاني اى او اصرار على صغيرة (فتجب اهانته شرعًا فلايعظم بتقديمه للامامة تبع فيه الزيلعي ومفاده كون الكراهة فى الفاسق تحريمية. طحطاوى على مراقى الفلاح، قال فى الدرالمختار والاحق بالامامة تقديما بل نصبًا الاعلم باحكام الصلوة فقط حجة وفساداً بشرط اجتنابه للفواحش الظاهرة ص ۵۲۰ ، ط. س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۲۰ . ظفير

ناجائزوی. په یوه سترګه ړوند کیدل دامام سبب دکراهت دامامت نه دی. علیٰ هٰذا دهغه جامې بدلول هم مطلقًا موجب دعدم جواز دامامت نه دی.

(۲) جنون اولیونتوب که چیری داسی وی چی هیڅ وخت هغه په هوښ نه راځی اوپه همدی حالت کی لمونځ ورکوی نوپه هغه پسی لمونځ درست نه دی، اوکه چیری دلمانځه ورکولو په وخت کی په خپل هوښ کی وی نولمونځ په هغه پسی صحیح دی. کما فی الدر المختار وکذا لایصح الاقتداء بمجنون مطبق اومنقطع فی غیر حالة وفاقته الخ قال الشامی امافی حالة الافاقة فیصح کمافی البحر عن الخلاصة. شامی جلد اول ص ۲۰۴.

دګنجي امامت درست دي اوکه نه؟ سوال: (۱۰۸۸) په ګنجي پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اوپه ګنجي پسی دلمانځه دکراهت څه حدیث سته اوکه نه؟

جواب: په ګنجي پسی لمونځ جائزدی، کله چی هغه ښه سوی وی اوزخم یې پر سر باندی پاته نه وی نولمونځ په هغه پسی بی کراهته درست دی، په ګنجي پسی دلمانځه دمکروه والی هیڅ حدیث نسته. فقط

ښځه امامه کیدي سی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۸۹ \۱) په پنځه وخته لمونځونو او تراویحو کی دښځو امام ښځه کیدی سی اوکه نه؟

یوامام په دوه ځایونو کی امام کیدي نسي: **سوال**: (۱۰۹۰) یوامام په دوو ځایونو کی خطبه اودجمعی لمونځ ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: (۱) که چیری دښځو امام ښځه وی نوهر لمونځ مکروه دی (فی عالمګیریه ص ۸۰ ج۱ ویکره امامة المرأة للنساء فی الصلوة کلها من الفرائض والنوافل الخ

(۲) په بل ځای کی په دوهم واری لمونځ نه سی ورکولی. فقط دستخط

(فی الدر المختار باب الامامة لایصح الاقتداء الی قوله ولامفترض بمتنفل الخ وفی الشامی ص ۲۰۸ فی باب الجمعة: الخطبة والصلوة کشیئ واحد لکونهما شرطًا ومشروطًا الخ.

دغیر صالح ولد الزنا امامت: **سوال**: (۱۰۹۱) دولد الزنا غیر صالح اوغیر عالم امامت جائز دی اوکه نه؟

جواب: امامت دداسی ولد الزنا به که څه هم جائز وی خو دکراهت څخه به خالی نه وی، هٰذا ان وجد غیرهم والا فلا کراهة الخ درمختار علی الشامی ص **۵۲۵**، همدا مفتیٰ به (قول) دی.

په شیعه پسی لمونځ کیري اوکه نه؟ سوال: (۱۰۹۲) په شیعه پسی داهل سنت لمونځ کیږی اوکه نه؟

داهل سنت والجماعت نوم کله ایښوول سوی دی؟ (۱۰۹۳\۲) نوم داهل سنت والجماعت ددی فرقی دپاره دکله څخه ایښوول سوی دی، او وجهِ تسمیه یی څه ده؟

څوک چی نه شیعه وی اونه اهل سنت دهغه امامت څنګه دی؟ سوال: (۱۰۹۴\۳) کم سړی چی نه شیعه وی اونه اهل سنت په هغه پسی داهلِ سنت لمونځ جائز دی اوکه نه؟

څوک چی تعزیه او مرثیه کوی آیا هغه اهلِ سنت دی؟ سوال: (۱۰۹۵\۴) څوك چی مرثیه اوری یادچا دکور څخه چی تعزیه وزی یا دچاپه کور کی چی تعزیه وی یا دچاپه کورکی چی ماتم کیږی هغه په اهل سنت کی داخل دی اوکه نه؟ یا اهل شیعه دی؟

دشیعه سره تعلق درست دی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۹۲\۵) اهل سنت جماعت ته دشیعه څخه پرهیز کول پکاردی اوکه تعلق دی ورسره ساتی؟

جواب: (۱) په شیعه پسی دسنی لمونځ نه صحیح کیږی چونکی دهغوی بعضی عقائد داسی وی کم چی موجب دکفر دی لهٰذا په دی صورة کی دلمانځه نه صحیح کیدل یقینی خبره ده اوکه چیری شیعه غالی نه وی بیاهم احتیاط لازم دی ځکه چی عقیده پټ شی دی. اوشیخینو ته بدرد ویل کم چی عند البعض کفردی اوقذف عائشه رضی الله عنها کم چی بالاتفاق کفردی، ددی څخه هیڅ یو شیعه خالی نه وی. قال الشامی ینبغی تقیید الکفر بالانکار لخلافه بما اذا لم یکن عن شبهة. الخ باب الامامة

(۲) دی ډلی ته اهل سنت والجماعت په دی وجهی سره وایی چی دافرقه اهل حق اومتبع دسنتو دحضور ﷺ ده اوداصحابو رضی الله عنهم طریقه یی مضبوطه نیولی ده وقال النبی ﷺ ان الله تعالی یغرس فی هذا الدین غرسا یستعملهم فی طاعة لایبالون من خذلهم ولا من یضرهم حتی یاتی امر الله عزّ وجل اوکما قال رواه ابن ماجه عن ابی هریرة رضی الله عنه .

(۳) دداسی سړی داقتداء څخه ځان ساتل لازم دی چاته چی دخپل دین دحفاظت خیال بالکل نسته، داسړی فاسق دی. قال النبی ﷺ الامام ضامن والمؤذن مؤتمن، رواه الترمذی.

(۴) داټول کارونه چی کم سړی کوی دروافضو شعاردی. قال النبی ﷺ من تشبه بقوم فهو منهم.

کم سړی چی مرثیه ویل یا اوریدل جائز ګڼی اوتعزیه ایستل ښه ګڼی اوپه هغه کی شریکیږی هغه سنی نه دی بدعتی دی اودروافضو شریك اوهم خیاله دی. فقط، والله تعالی اعلم

(۵) دروافضو سره تعلق ساتل نه دی پکار. قال الله تعالی: فلا تقعد بعد الذکریٰ مع القوم الظالمین.

دستمال پیچلو ته به عمامه ویل کیږي اوکه نه؟ سوال: (١٠٩٧) عمامه (یعنی پټکی) خواوه یا یوولس گزه وی. نن صبا امامان چی کم دستمال وغیره دامامت په وخت کی پیچی، دې ته به عمامه څنگه وایو؟

دکم امام ښځه چی ساړی (یوقسم خاص جامه) **تړی دهغه امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال:** (١٠٩٨ \٢) دامام ښځه ساړی تړی کم چی دهندوانو ښځی اچوی. په دغه امام پسی لمونځ څنگه کیږی؟

جواب: داوو یا یوولسو گزو تحدید شارع ﷺ نه دی لګولی. په عرف کی چی څه ته عمامه وایی په هغه باندی به دعمامی اطلاق کول کیږی.

(٢) دپیش امام په امامت کی په دی سره هیڅ کراهت نسته. فقط والله تعالی اعلم، کتبه عزیز الرحمٰن.

دغوث الاعظم څخه دامدادطلب کونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (١٠٩٩) کم سړی چی داقسم اشعار وایی:

امداد کن امـــداد کن — از درد وغـــم آزاد کـن
در دین ودنیا شاد کـن — یا غوث اعظم دستگیر

؆، داسی سړی امام جوړول څنگه دی؟

جواب: داسی سړی امام جوړول مناسب نه دی بلکی متقی اومتبع سنت امام جوړول پکار دی. فقط (قال عز وجل: ان الذین تدعون من دون الله عبادٌا امثالکم، وقال تعالی: ایاك نعبد وایاك نستعین. دا دغیر الله څخه په اشعارو کی استمداد دی کم چی حرام دی او د حرامو مرتکب فاسق، متبدع دی اوامامت دهغه مکروه تحریمی دی).

دچا دفسق په وجهی سره چی خلک ناراضه وی دهغه دامامت څه حکم دی؟ سوال: (١١٠٠) دکم پیش امام څخه چی اکثر قوم په سبب دفساد اوچغل خوری اوحاسد اومغروری او غیبتی کیدلو ناراضه وی، دهغه په وجهی سره بعضی دجمعی پریښوونکی اوبعضی دجومات پریښوونکی سوه، هغه دهمیشه امام جوړول جائزدی اوکه نه؟

جواب: داسی سړی دچا دفسق اومعصیت په وجهی سره چی دهغه څخه خلګ ناراضه وی هغه دی دائمی امام نه سی اولمونځ په هغه پسی مکروه دی، داسی سړی واجب العزول دی هغه دی معزول سی. فقط والله تعالی اعلم. کتبه عزیز الرحمٰن مفتی مدرسه دارالعلوم دیوبند.

(رجل أم قومًا وهم له کارهون ان کانت الکراهة لفساد فیه او لانهم احق بالامامة یکره له ذٰلك فتاوٰی عالمگیریة ص ٨٢ ج١ بیان الامامة، جمیل الرحمٰن)

دتارک جماعت امامت جائزدي اوکه نه؟ سوال: (۱۱۰۱) خضاب مهندی جائز است یانه ، وامامت تارك جماعت جائز است یانه ؟

جواب: خضاب مهندی جائز است وترك جماعت بلاعذر معصیت است، امامت تارك جماعت مکروه است. (وفصل فی المحیط بین الخضاب بالسواد الی قوله ومذهبنا ان الصبغ بالحناء والوسمة حسن کما فی الخانیة ، شامی ج **۵** ص **۳۳۹**، الجماعة سنة الی قوله: وقیل واجبة وعلیه العامة (درمختار) فی الاجناس لا تقبل شهادته اذا ترکها استخفافا او مجانة، شامی ج۱ ص**۵۷۹** ، باب الامامة: ویکره امامة الفاسق ؒ (کبیری).

دپردی سړي دمنکوحې سره دواده کوونکی امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۰۲) یو چا دخاوند لرونکی غیرِ مطلقی ښځی سره نکاح کړیده، نودا نکاح وسوه اوکه نه؟ اودهغه ښخه چی کم اولاد سویدی دهغه څه حکم دی؟ اودهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

جواب: دغیر مطلقی ښځی سره نکاح حرامه اوباطله ده، اولاد ئی ولد الزناء دی، امامت دهغه مکروه دی، (لقوله تعالی: حرمت علیکم امهاتکم ، الی قوله عزَّ وجلَّ: والمحصنٰت من النساء، الأیة ، وفی الکبیری للحلبی رحمه الله ص **۴۷۹** : قدموا فاسقا یأثمون بناء علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. جمیل الرحمٰن)

په چا کښی چی دا اوصاف وی دهغه دامامت څه حکم دی؟ سوال: (۱۱۰۳) کم څوك چی غیرِ مقلدوی، کم چی نن سباځان ته اهلِ حدیث وایی، اوچی خپل جایدادپه سودی ګروی باندی ورکوی، اودکلام الله حافظ نه وی، بلکه کلام پاك غلط وایی، او دکاروبار او د دنیوی مشاغلوپه وجه دلمانځه دوختونو پابندی اکثره نه سی کولی، نوپه داسی چاپسی لمونځ کیږی اوکه نه ؟ اوداسی څوك امام جوړول درست دی اوکه نه؟ خصوصاً کله چی یوبل څوك هم موجود وی کم چی دقرآن پاك حافظ اوپه ظاهره ددغه ټولو ذکر سوو خبرو څخه پاك صاف په نظر راځی، کم یوباید امام مقرر کړل سی؟ اوبل که چیری هغه مخکنی کس دمقتدیانو دناخبری په وجه سره امّ القوم (په قوم کی ډیر ښه سړی) وی، ځکه چی همیشه به یې خپل ځان حنفی المذهب ظاهروی اوددغه ټولو امورو څخه به یې پرهیز کوی، خواوس دیوځو ورځو څخه یې دامامت داستحکام په خیال خپل ځان غیرِ مقلد ظاهر کړی، اوپه نورو امامانو باندی یې سب اوشتم شروع کړل اوپورته ذکر سوی افعال ورڅخه صادر سول چی دهغه په وجه سره په اسلامی جمیعت کی فساد اوتفرقه راغلل، اوسره ددې چی اکثره مقتدیان دهغه دامامت څخه کراهت کوی، دی بیا هم په خپل امامت باندی مصروف دی، تردې پوری چی دحکومت په ستره محکمه (عدالتِ عالیه) کی ددعوې نوبت راغی او ورسره داهم وایی چی زما داجازې څخه پرته نه بل څوك

مقرریدلی سی، اونه یوسړی بلکه ټوله یا اکثره لمونځ گذاره هم مانه سی لیری کولئ، آیا په راتلونکی کی دامام دمقررولو اختیار دامام قبضې ته ولاړی ؟

جواب: ددې غیرِ مقلد په امامت کی یوڅو خرابیانی دی کمی چی دامامت دکراهت موجب دی، لهذا دده معزولول اوبل امام مقررول لازم دی، اوددغه سړی مخکنی امام غیرِ مقلد هیڅ حق په امامت کی نسته، عزل دده لازم دی، (قال فی الدر المختار: ولو أم قومًا وهم له کارهون ان الکراهة لفساد فیه او لانهم احق بالامامة منه کره له ذلك تحریمًا لحدیث ابی داود: ولا یقبل الله صلوة من تقدم قومًا وهم له کارهون ([1]) ، وفی الشامی باب الامامة ایضا) غرض داچی ذکرسوی امام په سبب دمحرماتو اوعدمِ تقلید، اوددین امامانوته په بدرد ویلو کوم چی دغیرِ مقلدینو شعار دی فاسق اومبتدع دی ([2])، اوددې دواړو مامت مکروه دی، اودمخکنی حدیث دابوداؤد څخه معلومه سوه چی کم څوك با وجود دکراهت دمقتدیانو اودهغوی دبدگڼلو، امام وی اوپردې باندی تاکید او تابید کوی، اوجبراً امام کیدل غواړی، اودمقتدیانو دهغه دامامت څخه کراهت کول په سبب دخرابئ اوفساد دامام وی، نوداسی کس امام جوړول مکروهِ تحریمی دی، اودشامی دعبارت څخه معلومه سوه چی معزوله کول دفاسق ضروری دی (قال فی الشامی: وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعا ﷬ (شامی ([3]) ص **۵۸۵** باب الامامة). کتبه عزیز الرحمن عفی عنه

دحنفی لمونځ په شافعی پسی جائزدی اوکه نه؟ ([4]) **سوال**: (۱۱۰۴) ددې ځای اکثره امامان په لمانځه کی بسم الله هم دقرآئت سره په لوړ آواز سره وائی اورفع الیدین کوی بعض لمونځ گذار په جهرسره آمین وائی، په داسی کسانو پسی لمونځ کیږی یعنی دحنفی، او دوی په امام پسی (الحمد لله) هم وایی.

جواب: دامام شافعی ﷫ په مذهب کی دفاتحې او دسورت سره دبسم الله جهر سته، ځکه به هغوی داسی کوی اوداحنافو په نزد دانسته اوهمدارنگه رفع الیدین اوقرائتِ فاتحة خلف الامام دامام شافعی ﷫ مذهب دی، دغه خلگ کم چی داسی کوی شافعی المذهب به وی خوهغوی لره پکار دی چی په زوره دی نه وایی ولی چی په دې سره دلمونځ گذارو په لمانځه کی خلل راځی، دناخبرتیا په وجه سره هغوی داسی کوی. فقط

([1]). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص **۵۲۲** ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹** . ظفیر

([2]). قال رسول الله ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفر. رواه مسلم، (مشکوٰة باب حفظ اللسان). ظفیر

([3]). رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص **۵۲۳** ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۰** . ظفیر

([4]). وگوره دتفصیل دپاره (غایة التحقیق ونهایة التدقیق) دهمدې حصې په پای کښی . حقانی عفا الله عنه

(كه چيری دضروری خبروخيال وساتی نوبغير دكراهت څخه يی اقتداء جائزده. ([1]) ظفير)
دمور اوپلار دنافرمانه امامت؟ سوال: (**۱۱۰۵**) كم څوك چی دخپل مور اوپلار نافرمانه دی په هغه پسی لمونځ درست دی اوكه نه؟ اودخپل لاس په ګټه كی مور اوپلارته څه رسيدی سی اوكه نه؟ كه چيری مور اوپلار فقيران وی نواولاد مقدم دی اوكه موروپلار؟
جواب: امامت دهغه مكروه ([2]) دی په سبب دفاسق كيدلو، اونكاح تړل اوذبيحه (يعنی حلاله) دهغه درسته ده ځكه چی هغه مسلمان دی. اوكه چيری دهغه مور اوپلار محتاج وی نودهغوی خرڅ اونفقه پرزوی باندی واجب ده خپل عيال اوبچيانو ته دی هم وركوی اومور اوپلار ته دی هم وركوی. دټولو نفقه پرده باندی لازمه ده. وتجب علی موسر (الی قوله) النفقة لاصوله الفقراء ولو قادرين علی الكسب ([3]) الخ، درمختار. فقط والله تعالی اعلم.
په غيرمقلد پسی دمقلد لمونځ: سوال: (**۱۱۰۶**) په غير مقلد پسی دمقلد مقتدی لمونځ كيږی اوكه نه؟
جواب: كه چيری غير مقلد امام ددی خبری رعايت كوی چی هغه كار په لمونځ كی نه كوی په كم سره چی دحنفی لمونځ فاسد يامكروه كيږی اوهغه متعصب نه وی نواقتداء دهغه درسته ده. دحنفی فقهی په كتابونو كی ددی تفصيل درج دی. په درمختار كی دی: ان يتقن المراعاة لم يكره الخ (درمختار ص **۵۲۲** ج۱)
ددروغو دشاهدی وركونكی امامت: سوال: (**۱۱۰۷**) ددروغو په شاهدی وركونكی پسی لمونځ درست دی. اوكه مكروه ؟ اولمونځ كيږی اوكه نه؟
جواب: په هغه پسی لمونځ مكروه دی چی كله توبه وكاږی نوبيا درست دی بغير كراهته. اولمونځ په هغه پسی په هرحال كی كيږی ليكن دتوبی څخه بغير مكروه ([4]) دی.
دولد الزنا اونا بالغه امامت: سوال: (**۱۱۰۸**) امامة ولد الزنا هل هی جائزةٌ ام لا ؟ (۲) وامامة صبی لم يبلغ الحلم فی الفرائض والنوافل يجوز ام لا ؟
جواب: (**۱**) ان كان صالحاعالما ورعاتجوز امامته بل هواولی من غيره واذالم يكن موصوفًا بالاوصاف

([1]). ومن أم باجرة ومخالف كشافعی لكن فی وتر البحر ان تيقن المراعات لم يكره اوعدمها لم يصح وان شك كره (درمختار) اما الاقتداء بالمخالف فی الفروع كالشافعی فيجوز ما لم يعلم منه ما يفسد الصلوة علی اعتقاد المقتدی عليه الاجماع ؒ (رد المحتار باب الامامة ج ۱ ص **۵۲۲** ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲** – **۵۲۳**). ظفير
([2]). ويكره تقديم الفاسق ايضًا لتساهله فی الامور الدينية (غنية المستملی ص **۳۵۱**) . ظفير
([3]). الدر المختار علی هامش رد المحتار. باب النفقة ص **۹۳۱** – **۹۳۳** ج**۲** ، ط.س. ج **۳** ص **۶۲۱** . ظفير
([4]). ويكره امامة عبد واعرابی وفاسق مختصراً (درمختار ، ط.س. ج۱ ص **۵۵۹**). ظفير

المذکورة. لاتجوز کذا حققه فی الشامی وغیره. ([1])

(۲) لاتجوز امامة الصبی الذی لم یبلغ الحلم مطلقا لا فی الفرائض ولا فی النوافل التراویح وغیره. علی الصحیح من المذهب ([2]). فقط

دګوډ امامت: **سوال**: (۱۱۰۹) دګوډ اولنډی دامامت څه حکم دی. مکروه دی که څنګه؟

جواب: که چیری داسی ګوډ وی چی پوره دریدی نسی نودهغه امامت یی مکروه تنزیهی یعنی خلاف اولی لیکلی دی اودقصیر (یعنی لنډی) په امامت کی څه کراهت نسته. وکذا اعرج یقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغیره اولی الخ شامی ([3]).

دسوزک والا سړی امامت: **سوال**: (۱۱۱۰) یوامام ته دسوزك ناجوړی ده. قطره هروخت ورته راځی. په داسی امام پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: که چیری دغه سړی دعذر حدته رسیدلی وی اومعذورسوی وی چی هروخت قطره ورته راځی اوهیڅ وخت دلمانځه خالی نه وی ځینی نوپه هغه پسی دغیر معذورینو لمونځ نه کیږی هغه دی امام جوړ نه سی. ([4]) فقط

چی په شکی ورځ څوک روژه نه نیسی دهغه امامت: **سوال**: (۱۱۱۱) په یوځای کی میاشت په یوکم دیرشم تاریخ ښکاره نه سوه ([5]) احتیاطًا (خلګو) روژه ونیوله. دغرمی په وخت کی پیش امام پخپله هم روژه ماته کړه اودخلګو روژی یی هم ماتی کړی. ماښام ته میاشت غټه وه، ټولو یقین وکی چی میاشت په یوکم دیرشم راختلی ده. په دې ډول په نورو اطرافوکی په یوکم دیرشم میاشت ولیدل سوه. ددغه روژی قضا سته اوکه نه؟ او روژه ماتونکی ګنهګار سو اوکه نه؟ او دامام دپاره څه حکم دی. امامت دهغه درست دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی په دغه امام اوپه نورو روژی ماتونکو باندی هیڅ ګناه ونه سوه. امامت دهغه درست دی. ددغه روژی قضاء به لازمیږی.

([1]). وګوری شامی ص **۵۲۵** ج۱ وفی غنیة المستملی ویکره تقدیم ولد الزنا بناء علی ان الغالب فیه الجهل (الی قوله) حتی لوتحقق فیه عدم الجهل لایکره تقدیمه (ص **۳۵۱**) . ظفیر

([2]). ولایصح اقتداء رجل بامرأة الخ وصبی مطلقًا ولو فی جنازة ونفل علی الاصح (درمختار) انه لایجوز فی الصلوة کلها (ردالمحتار باب الامامة ص **۵۳۹** - **۵۴۰** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۷۲**). ظفیر

([3]). ردالمحتار باب الامامت ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲** . ظفیر

([4]). وکذا لا یصح الاقتداء بمجنون مطبق (الی قوله) ولاطاهر بمعذور (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص **۵۴۱** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۷۷**). ظفیر

([5]). ولایصام یوم الشك (الی قوله) وینظر غیرهم بعد الزوال به یفتی (درمختار کتاب الصوم، ط.س. ج۱ ص **۳۸۱**). ظفیر

دتوبې شخه وروسته داغلام باز امامت: **سوال**: (۱۱۱۲) مسمی عبد الغنی په بچه بازی کې مشهور وو. اوس هغه دزړه په صدق سره توبه کنبلی ده په هغه پسې لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: وروسته دتوبې شخه بې تردده اوبې کراهته په عبد الغنی پسې لمونځ درست دی. څه شبهه کول نه دی (۱) پکار.

دغیر مقلد امامت: **سوال**: (۱۱۱۳) په غیر مقلدینو پسې لمونځ درست دی اوکه نه؟

دقادیانی امامت: **سوال**: (۲\۱۱۱۱۴) په قادیانیانو پسې لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: (۱) په غیر مقلدینو متعصبینو پسې لمونځ کول نه دی پکار. (۲) (۲) په قادنیانو پسې لمونځ کول نه دی پکار. (۳)

په تراویحو کې دنابالغه امامت: **سوال**: (۱۱۱۴) په تراویحو کې نابالغه هلك امام کیدی سی اوکه نه؟ په نابالغه پسې تراویح درست دی اوکه نه؟

جواب: صحیح اومفتٰی به مذهب دحنفیه وو دادی چې په نابالغه پسې تراویح درست نه دی (۴).

چې پرچا باندی غلط تهمت ولګول سی دهغه امامت درست دی: **سوال**: (۱۱۱۵) یوسړی ښکلی قرآن کریم وایی اوشریف سړی دی. غرض داچې دټول ښار خلګ یې دامامت قابل ګڼی صرف یوسړیورباندی دا الزام لګوی چې دی سفلی عمل (جادو) وایی. هغه دوه هندوان شاهدکړی دی چې بیشکه دی سفلی عمل وایی، دغه امام بالکل انکار کوی. اوس دا وفرمایاست چې کم سړی پرداسی نیك امام باندی کم چې دټول ښار یې خلګ ښه ګڼی داسی الزام لګوی نو دهغه څه سزا ده ؟

دچاپه پښو کې چې کوروالی وی دهغه امامت څنګه دی: **سوال**: (۲\۱۱۱۲) دیوسړی په پښو کې ګوډوالی دی اودجومات امام دی لیکن قرآن کریم ښه وایی. په داسی امام پسې

---

(۱). التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوٰۃ ص ۲۰۲) ظفیر.

(۲). په درمختار کې دی: وکذا تکره خلف امرد (الی قوله) وزاد ابن الملك ومخالف. په شامی کې دمخالف داقتداء په اړوند ذکر دی: وخالفهم العلامة الشیخ ابراهیم البیری بناء علی کراهة الاقتداء بهم لعدم مراعاتهم فی الواجبات والسنن (شامی ص ۵۲۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۴) ظفیر، وان انکر بعض ما علم من الدین الضرورۃ کفر بها (الی قوله) فلا یصح الاقتداء به اصلا (شامی ص ۵۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۱). ظفیر

(۳). فلا یصح اقتداء رجل بامرأة وصبی مطقا ولوفی جنازة ونفل علی الاصح (درمختار) وفی رد المحتار قال فی الهدایة وفی التراویح والسنن المطلقة جوزه مشائخ بلخ ولم یجوز مشائخنا (الی قوله) والمختار انه لا یجوز فی الصلوۃ کلها ص۵۴۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲) ظفیر.

(۴). ردالمحتار باب الامامة بعد مطلب فی امامة الامرد ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

ترنامه لاندي دسپين داغ والا امامت درست اوکه نه؟ سوال: (۱۱۱۷\۳) که ديوسړی دنامه لاندي سپين داغونه وی نوپه هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: (۱) کله چی ددی الزام اوتهمت څه ثبوت نه وی کم چی يی په امام لګولی دی نو امامت دهغه بی کراهته صحيح دی. ددروغو الزام لګونکی فاسق دی اوعاصی دی توبه دی وکاږی.

(۲) په شامی کی دی: وکذا اعرج يقوم ببعض قدمه فالاقتداء بغيره اولی، تاتارخانيه (۱). ددی روايت څخه معلومه سوه چی په ګوډ پسی دلمونځ کولو څه حرج نسته.

(۳) په هغه پسی لمونځ بی کراهته درست دی ولی چی فقهاوو کم دابرص امامت مکروه ليکلی دی نوپه هغه کی داقيد دی چی برص دهغه ظاهر وی اودا داغونه ظاهرنه دی. وکذا يکره خلف امرد وسفيه ومفلوج وابرص شاع برصه. (۲) الخ

دترک واجب په وجهی سره دلمونځونو اعاده کيږی نوځوک چی په مخکی جَمع کی شريک نه وو هغه لمونځ کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۱۸) دواجب پريښوولو سره لمونځ کيږی اوکه نه؟ که چيری دهغه اعاده کوی نوکم سړی چی په مخکی لمونځ کی شريك نه وو، اقتداء وکړی اوکه نه ؟ که چيری وکړی نولمونځ يی درست دی اوکه نه؟

جواب: دغه لمونځ ناقص وسو، اعاده دهغه واجب ده اواقتداء دهغه مفترض (فرض کونکی) ته درسته نه ده اولمونځ دهغه مقتديانو چاچی مخکی لمونځ نه ووکړی، صحيح به نه وی. (۳)

چی مريض امام ته دقطری شبهه وی، نوهغه څه وکړی؟ سوال: (۱۱۱۹) يوسړی دمجبوری څخه امامت کوی ولی چی بل دهغه برابر هلته څوك سړی نسته چی امامت وکړی. که چيری دی امام ته په لمانځه کی قطره راسی نوامامت پوره کړی اوکه دی لمونځ درسره راوګرزوی، اوامام دقطری راتللو مرض لری.

جواب: ترڅو پوری چی يقين دقطری راوتلو نه وی نولمونځ دی پوره کړی اوسنت اونفل تول دی وکړی. (۴)

---

(۱). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی امامة الامرد ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفير

(۲). ولها واجبات لاتفسد بترکها وتعاد وجوبا الخ والمختار انه جابر للاول لان الفرض لايتکرر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوٰة ص ۴۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۰). ظفير

(۳). اليقين لايزول بالشك (الاشباه والنظائر القاعدة الثالثه ص ۷۵) . ظفير

(۴). ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج ۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۰ . ظفير

دظالم اوخائن امامت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۲۰) زید دعمر څخه یوکور په یوولس سوه واخستی اودمصلحت په وجه یی دخرڅونکی څخه دالوظ واخستی چی ددی قیمت به دولس سوه اچول کیږی، نوهمدغسی وسوه، خو درجسترۍ څخه وروسته چی کله روپی دهغه په قبضه کی راغلی اومشتری زائد رقم واپس اخیستل وغوښتل نو معاهده یی فسخ کړه، دزیاتی رقم ورکولو څخه یی انکار وکی چی دهغه په وجهی سره بائع مذکور په ټول ښار کی بدنام سو اوبد دیانته اوغدار مشهور سو. ددی څخه علاوه شپه او ورځ په تعدیاتوکی اونورو دشرع دځخه په مخالفو معاهداتو کی منهمك (اخته) اوسی. نوآیا داسی سړی عند الشرع دجومات دامامت یا داسلامی مدرسو داهتمام دلوړ منصب مستحق دی اوکه نه؟ سره ددی که چیری دی په یوداسی منصب باندی برقرار ولرل سی نودخلکو بدګمانی پیدا کیږی اوددغه مدرسی په اعانت کی کمی واقع کیږی.

جواب: خرڅونکی ته دمقرر قیمت څخه زیاتی روپی راګرځول صریح ظلم اوخیانت دی او ظالم اوخائن دامام جوړولو اومهتمم جوړولو قابل نه دی. هٰکذا فی کتب الفقه: واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا الخ (رد المحتار المعروف بالشامی (۱) وایضًا فی کتاب الوقف منه ج ۳: عن الاسکاف: ولا یولی الا امین قادرًا بنفسه اوبنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظر ولیس من النظر تولیة الخائن لانه یخل بالمقصود.

په یوسترګی پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۲۱) زید دقرآن حافظ دی اویوه سترګی دی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اوکه چیری یو سړی په علم کی دهغه څخه زیات وی نوآیا هغه ته هم یوسترګی امام جمع ورکولی سی؟

جواب: یوسترګی حافظ په شان ددوه سترګی بینادی، دهغه څخه دزیات علم والا یا دهغه غوندی علم لرونکی لمونځ په هغه پسی بی کراهته کیږی. دنابینا دامامت دمکروه والی وجه فقهاوو دالیکلی ده چی دسترګو دنیستوالی په وجهی سره دپلیتیۍ څخه ځان ساتل دهغه دپاره مشکل سی. (والاعمٰی لانه لا یتوفی النجاسة. هدایه باب الامامة ص ۱۱۰ ج۱. دیو سترګی سړی کار په یوی سترګی سره دغه رکم چلیږی لکه څنګه چی دبینا کار چلیږی. ظفیر)

دسود کاغذات په اجرت باندی دلیکونکی امامت څنګه دی؟ سوال: (۱۱۲۲) یوسړی دسود اخستونکی سره اوسیږی اودسودکاغذات په اجرت باندی لیکی، آیاپه داسی سړی پسی لمونځ درست دی؟

جواب: سود اخستونکی اولیکونکی فاسق دی. لهٰذا په فاسق پسی لمونځ مکروه دی.

(۱). ردالمحتار کتاب الوقف. مطلب فی شروط المتولی. ص ۵۳۲ ج۳ ، ط.س. ج۴ ص ۳۸۰ . ظفیر

([1]) (آنحضرت ﷺ دسود پرکاغذات لیکونکی باندی هم لعنت کړی دی هغه یی هم په هم دغه ډله کی شمار کړیدی. عن جابر قال لعن رسول الله ﷺ اکل الربوا ومؤکله وکاتبه وشاهدیه....وقال هم سواء رواه مسلم. مشکوٰة باب الربوا ص ۲۴۴).

په نفل کونکی پسی دفرض کونکی لمونځ نه صحیح کیږي: **سوال**: (۱۱۲۳) که چیری یوامام دوه ځایه یعنی په دوو ښارونو کی لمونځ ورکوی نودرست دی اوکه نه؟

جواب: چی په دوهم ځای کی دغه امام لمونځ ورکړی نوهغه ونسو ولی چی که چیری اول لمونځ دشرعی قاعدی مطابق سوی وی نودوباره چی کم لمونځ ده وکی هغه نفل دی اوپه نفل کونکی پسی فرض او واجب درست نه دی. نوکمو خلګو چی دوهم وار په هغه پسی لمونځ وکی دهغه خلګو لمونځ صحیح نه سو. ([2])

که امام دهیچا داقتداء نیت هم ونه کړی نوهم دمقتدی لمونځ کیږي: **سوال**: (۱۱۲۴) زید په یوځای کی امام دی اوبکر دهمدغه ځای درباری دی. په زید اوبکر کی نا اتفاقی ده، بکر په زید پسی لمونځ کوی لیکن دعداوت په وجه زید یی داقتداء نیت نه کوی نوپه دی صورة کی دبکر لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: دبکر لمونځ صحیح دی ولی چی که امام دمقتدیانو دامامت نیت وکړی اوکه یې ونه کړی په هرحال کی دمقتدیانو لمونځ کیږی ([3]).

چی دتجوید دفن ماهر نه وی نو دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۲۵) که چیری امام قرآن کریم خو صحیح وایی لیکن دتجوید په فن کی پوره ماهرنه وی نوپه هغه پسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: په لمانځه کی څه نقصان نه راځی.

په غیر مقلد پسی دحنفی لمونځ کیږي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۲۶) په غیر مقلد پسی دحنفیانو لمونځ جائزدی، اوکه نه؟

جواب: په دی کی څه تفصیل دی چی دهغه دلیکلو په دی ځای کی ګنجائش نسته اونه یی ضرورت دی، ولی چی کتابونه اورسالی په دی باره کی موجودی دی. مختصره داچی په غیر مقلدو پسی په لمونځ کولو کی احتیاط کول پکار ([4]) دی.

([1]). اما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه ﷺ (رد المحتار باب الامامة ج۱ ص **۵۲۳** ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲**). ظفير

([2]). ولا مفترض بمتنفل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۴۲** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۷۹**). ظفير

([3]). ولايشترط لصحة الاقتداء نية امامة المقتدى (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ص **۳۹۴** ج۱). ظفير

([4]). وكذا تكره خلف امرد ﷺ وزاد ابن الملك كشافعى لكن فى وتر البحر ان تيقن المراعات لم يكره اوعدمها =

د دیندار ولد الزنا امامت درست دی او که نه؟ سوال: (۱۱۲۷) د ولد الزنا سړی (څوك چی دارکان اسلام څخه پوره خبر وی اوباعمله پرهیزګار وی) اقتداء اوامامت شرعًا جائزدی اوکه نه؟

جواب: امامت دهغه بغیر کراهته درست (۱) دی.

کم امام چی په اخترونو کی دباجی سره ځی او راځی اوسود خور هم دی دهغه امامت څنګه دی؟ سوال: (۱۱۲۸) قاضی صاحب داخترونو دلمونځ ورکولو دپاره چی کله دخپل کور څخه ووزی نوشیخ نقارچی دډول ږغولو سره دقاضی صاحب څخه مخکی مخکی ترعید ګاه پوری ځی اوهمدغه رکم دلمانځه څخه وروسته ترکوره پوری ځی. داعمل ثواب دی اوکه ګناه. اوقاضی ښکاره واضح سود اخلی او قرآن کریم هم غلط وایی.

جواب: دقاضی دافعل چی ډول ږغوی، درست نه دی اوپه سود خور پسی لمونځ مکروه تحریمی دی (۲). فقط

څوک چی پلار ته ښکنځل کوی دهغه امامت درست دی، اوکه نه؟ سوال: (۱۱۲۹) شخصی پدر خودرا نیك وبد دهد وهمیشه دشنام دهد. غرض بسیار سیاست میکنند ودروغ میګوید موافق کتب چی حکم دارد. وبران شخص اقتداء جائز است یانه؟

جواب: پدر را ایذاء دادن ګناه کبیره ومعصیت سخت است اګر توبه نه کند ومعافی از پدر نخواهد نماز اومکروه است که اوفاسق است. قال الله تعالی: ولا تقل لهما اف ولا تنهرهما وقل لهما قولاً کریمًا (۳).

کم مسافر امام چی دری رکعاته کړی وی دهغه اقتداء درسته ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۳۰) مسافر امام چی دری رکعاته وکړل، په څلورم رکعات کی مقتدی شامل سو. هغه به دری رکعاته باقی په کمی طریقی سره کوی؟

جواب: کله چی امام مسافردی نوهغه ته دوه رکعاته کول پکاروه، که چیری هغه سهوًا څلور رکعاته وکړی نو آخری دوه رکعاته د هغه نفل سوه. لهٰذا اقتداء د هغه مفترض په

= لم یصح وان شك کره (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ - ۵۲۲ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

(۱). ویکره تنزیها امامة عبد الخ واعرابی الخ وولد الزنا (در مختار) لکن ما فی البحر صرح به فی الاختیار حیث قال ولو عدمت علة الکراهة بان کان الاعرابی افضل من الحضری والعبد من الحر ولد الزنا من الرشدة والاعمٰی من البصیر فالحکم بالضد (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ - ۵۲۰). ظفیر

(۲). وکذا تکره خلف امرد الخ وشارب الخمر واکل الربا ونمام ومراء ومتصنع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

(۳). سورة بنی اسرائیل: رکوع ۳. ظفیر

څلورم رکعات کی درسته نه ده اولمونځ دهغه نه سو صحیح. ([1]) فقط

دسرود اوسرنا اوریدونکی امامت: **سوال**: (۱۱۳۱) امام اذا ذهب فی مجلس الفجرة وسمع المزامیر والدف والرقص وغیرها من انواع الهو واللعب هل یجوز الصلوٰة خلفه ام لا ؟

جواب: تجوز مع الکراهة، اما الجواز فلقوله ﷺ صلوا خلف کل بر وفاجر الحدیث واما الکراهة فلان فی تقدیم الفاسق تعظیم وقد وجب علیهم تحقیره کذا فی الشامی ([2]). فقط

دکسب په طور باندی دخیر غوښتونکو امامت: **سوال**: (۱۱۳۲) دکمو فقیرانو کسب چی دخیر غوښتلو دی په هغوی پسی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دسوال کسب لرونکی فقیر اکثره دحرام کار مرتکب کیږی ولی چی هغوی ته سوال کول درست نه وی. په دوی کی ډیر غنیان اومالداران وی اوډیر پکښی تکړه او تندرست وی چی محنت اومزدوری کولی سی اوخوراکه ورسره موجوده وی په دی صورة کی چونکی هغه فقیر دکم چی داحال وی کم چی ذکرسو شرعًا فاسق کیږی اوپه فاسق پسی لمونځ مکروه کیږی. ([3]) فقط

قصداً دغلطی مسئلی ښوونکی امامت: **سوال**: (۱۱۳۳\ ۱) که چیری امام دقربانی دڅرمنی دقیمت په معامله کی مسئله غلطه ښیی نوڅه حکم یی دی؟

دتنخواه دار امام امامت: **سوال**: (۱۱۳۴\ ۲) کم امامان چی په تنخواه اخستلو سره لمونځ ورکوی که چیری تنخواه ورنه کول سی، نو امامتی نه کوی. په هغوی پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: (۱) دامامت په معاوضه کی دقربانی دڅرمنی قیمت ورکول درست نه دی، امام که چیری غلطه مسئله وښیی نودا ګناه پرده باندی ده، اوپه ده پسی لمونځ مکروه دی. (ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق (درمختار مختصرًا ص ۵۲۳ ج۱ ظفیر).

(۲) دهغوی لمونځ کیږی خو هغوی ته دا اخستل دامامت په عوض کی درست نه دی.

ددیوث امامت: **سوال**: (۱۱۳۵) دزید ښځی ته دزناکاری په وجهی سره حمل وسو اویو هلك یی پیداسوی دی. داسی ښځی ته طلاق ورکول پکار دی اوکه نه؟ زید وایی چی که الله ﷻ ماپه دوږخ کی اچوی هم نوزه به طلاق ورنه کړم. داسی سړی ته دیوث ویل جائز

([1]). وکذا لایصح علی تداء بمجنون الخ ولامفترض بمتنفل وبمفترض اٰخر لان اتحاد الصلاتین شرط عندنا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۸). ظفیر

([2]). وګوری ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

([3]). ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق الخ مختصرًا (درمختار) ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ . ظفیر

دی اوکه نه؟ اوورته پردیوث ویونکی باندی څه جرم سته، اوښځه هم هغه شان په حرام کاری کی مبتلا ده. په دغه سړی پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟
که چیری امام پر لوړ ځای باندی وی او مقتدیان پر لاندی ځای باندی وی نو لمونځ به صحیح وی اوکه نه؟

جواب: طلاق ورکول ضروری اوواجب نه دی کذا فی الدر المختار. داسی ویل ورته نه دی پکار. داویل حرام دی. نه. گنهگاردی. اولمونځ په هغه پسی صحیح دی لیکن که چیری هغه دخپلی ښځی په فعل باندی راضی وی، نوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی. (١)
که زیات لوړ وی نومکروه دی، کنی درست دی. (٢) فقط

دزانی امامت: **سوال**: (١١٣٦) یوسړی دخپلی نابالغی لور نکاح ددوو شاهدانو په مخکی یوسړی ته وکړه لیکن ددغه انجلی داکا زوی هغه خپل خاوند ته ورتللوته نه پریږدی او دخپل ځان سره یی ساتلی ده. ددی سړی دپاره څه حکم دی؟ اویو ملا وایی چی ددغه سړی امامت جائزدی چاچی دوهمه ښځه خپل په کور کی ساتلی ده اووایی چی فرعون ملعون به جنت ته ځی. اویوکم دوه لکه آدمه ددی آدم څخه مخکی تیرسوی دی اوجمعه دعیسایانو په ښارونو کی جائزنه ده. اوتور خضاب مباح دی. ددی سړی په باره کی څه حکم دی؟

جواب: دغه سړی چاچی دابنځه ساتلی ده اوخاوند ته ورتللو ته یی نه پریږدی فاسق او ظالم دی دده امامت مکروه دی. کذا فی الشامی (٣) وغیره من الکتب الفقهیه. اودغه ملا څوك چی داهلِ سنت والجماعت دعقائدو څخه خلاف عقائد ظاهروی. دی ضال او مضل دی، دده داقوالو اعتبار نسته. ده ته اعتقاد لرل حرام دی. قال ﷺ یکون فی اٰخر الزمان دجالون کذابون یاتونکم من الاحادیث بمالم تسمعوا انتم ولا اٰبائکم فایاکم وایاهم لا یضلونکم ولا یفتنونکم. رواه (٤) مسلم، وفی حدیث البخاری ومسلم حتّٰی اذا لم یبق عالمًا اتخذ الناس رؤسًا جُهّالاً فَسُئِلوا فافتوا بغیر علم فَضَلُّوا واَضَلُّوْا. فقط والله تعالٰی اعلم.

دفاسق امام په وجهی سره دوهمه جمعه: **سوال**: (١١٣٧) په کم جومات کی چی فاسق امام لمونځ ورکوی په هغه جومات کی دوهمه جمعه کول جائز دی اوکه نه؟

---

(١). ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق الخ متخصرا (الدر المختار باب الامامة، ط.س. ج١ ص ٥٥٩ – ٥٦٠).
(٢). وانفراد الامام علی انه کان للنهی وقدر الارتفاع بذارع ولاباس بما دونه (درمختار) قوله للنهی وهوما اخرجه الحاکم انه ﷺ نهٰی ان یقوم الامام فوق ویبقی الناس خلفه (ردالمحتار ص ٢٠٤ ج١، ط.س. ج١ ص٦٤٦). ظفیر
(٣). ویکره امامة عبد الخ وفاسق (هدایه باب الامامة ص ١١٠ ج١). ظفیر
(٤). مشکوة باب الاعتصام بالسنة فصل اول ص ٢٨. ظفیر

جواب: قال فی الدر المختار صلی خلف فاسق اومبتدع نال فضل الجماعة، قال فی الشامی قوله نال فضل الجماعة افاد ان الصلوٰة خلفهما اولی من الانفراد الخ ([1]). نو دوهمه جمعه کول په دغه جومات کی درست نه دی په هم دغه امام پسی لمونځ کول پکاردی، ولی چی دیوازی لمونځ کولو څخه په هغه پسی لمونځ کول اولی دی اودوهمه جمعه کول دمحلی په جومات کی روا نه دی. فقط

په تنخواه دار امام پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۳۸ \۱) په امامت باندی تنخواه اخستل جائزدی اوکه نه؟ اوکم امام چی تنخواه اخلی په هغه پسی لمونځ درست دی اوکه مکروه ([2]) دی؟

په مقرر امام اوعالم متقدی کی څوک دامامت مستحق دی؟ **سوال**: (۱۱۳۹\۲) په یوجومات کی امام مقرردی اویو عالم هم موجوددی. نولمونځ په چاپسی کول پکاردی؟ اودعالم لمونځ په دغه مقرر سوی امام پسی صحیح دی اوکه نه؟ کم امام چی تردوو میاشتو پوری سره دمعلوم والی په پلیت جای نماز باندی لمونځ وکی اوخلګوته یی لمونځ ورکی دهغه اقتداء درسته ده اوکه نه؟

جواب: (۱) په امامت باندی تنخواه اخستل درست دی څنګه چی دفقهی په کتابونو کی مصرح ([3]) دی. نوپه تنخواه دار امام پسی په لمونځ کولو کی هیڅ کراهت نسته. اوهیڅ تردد کول نه دی پکار.

(۲) په مقرر امام پسی لمونځ کول پکاردی همدا ښه ده. اودعالم لمونځ په مقرر امام پسی صحیح دی. په درمختار کی دی: ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غیره مطلقا ای وان کان غیره من الحاضرین من هو اعلم واقرأ منه. (شامی ص۵۲۲)

جای نماز که چیری پلیت وی نوپر هغه باندی په لمونځ کولو کی داتفصیل دی چی که چیری دسجدی اوقدمونو ځای پاك وی نولمونځ صحیح دی کنی نه دی، او دلاسونو او زنګنونو په ځای کی خلاف دی چی لمونځ فاسدیږی (اوکه نه) نوکه چیری ماسوا ددی ځای څخه په یوځای کی جای نماز پلیت وی نولمونځ کیږی په دی صورة کی اعتراض هیڅ نسته. په درمختار باب شروط الصلوٰة کی دی: و (طهارة) مکانه ای موضع قدمیه اواحدٰهما ان رفع الاخرٰی وموضوع سجوده اتفاقًا فی الاصح لاموضع یدیه ورکبتیه علی

---

[1]. مشکوٰۃ کتاب العلم فصل اول ص ۳۳ . ظفیر

[2]. وګوری ردالمحتار باب الامامة ص **۵۲۵** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۲** . ظفیر

[3]. ولا لاجل الطاعات (الی قوله) ویفتی الیوم بصحتها تعلیم القرآن والفقه والامامة والاذان (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی الاستیجاب علی الطاعات، ط.س. ج۲ ص **۵۵**). ظفیر

الظاهر الخ. په شامی کی دی: وفی البحر واختیار ابوالیث ان صلاته تفسد وصحیحه فی العیون ([1]). فقط

یوسړی یوازی فرض لمونځ کوی بل ورسره مقتدی جوړسو ودریدی: **سوال**: (۱۱۴۰) یوسړی یوازی په جومات کی لمونځ کوی بل سړی وروسته راغی نیت یی وتړی اومقتدی سو اومخکی سړی په امامت سره فرض لمونځ اداء کی. په دی صورة کی دهغه امامت او د هغه بله اقتداء درسته سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی لمونځ صحیح سو امامت اواقتداء جائز سوه ([2]).

په نفل کونکی پسی دفرض کونکی لمونځ: **سوال**: (۱۱۴۱) که چیری امام نفل کوی او مقتدی فرض، نوکه په هغه پسی یی وکړی نو دمقتدی فرض به وسی اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی به دمقتدی فرض نه کیږی. په درمختار کی دی، واتحاد مکانهما وصلاتهما ([3]). فقط

چی په لمانځه کی ښوری دهغه امامت: **سوال**: (۱۱۴۲) کم امام چی په لمانځه کی حرکت کوی، په هغه پسی لمونځ جائزدی؟ اوکه چیری دهغه په عادت کی داخل وی نوپه دی حالت کی څه حکم دی؟

دغسال اوخیر غوښتونکی امامت: **سوال**: (۱۱۴۳ \ ۲) داسی سړی امام یاقاضی مقررول ښنګه دی، څوك چی مړی لمبوی اویو سترګی اوګوډ وی اوخیر غواړی. اوهغه سړی سره دشادی شده کیدلو خپله لور خپل خاوند ته تللو ته نه پریږدی اوهغه انجلۍ فحاشه وی اودهغې فحاشه والی دهغه په اشاری سره وی نوهغه امام جوړول درست دی اوکه نه؟

جواب: (۱) کم سړی چی په لمانځه کی حرکت کوی په هغه پسی لمونځ مه کوی.

(۲) دمړو لمبول ګناه نه ده. په هغه پسی لمونځ صحیح دی. دیوسترګی امامت درست دی اودګوډ امامت خلافِ اولی دی اوپه خیر غوښتونکی پسی لمونځ مکروه دی. اوکم سړی چی خپله لور خپل خاوند ته نه لیږی او بی وجهی یی بنده کړی او دهغې په فحاشه ګرځیدلوباندی راضی اوخوشحاله وی نوهغه فاسق اوبدکاره دی امامت دهغه مکروه دی. فقط والله تعالی اعلم. ۱۳\۱۱ رجب سنه ۱۳۳۲ هـ ق.

([1]). رد المحتار باب شروط الصلوة ص ۳۷۴ ج۱). ظفیر

([2]). ای من صلی مع واحدة اقامة عن یمینه (غنیة المستملی ص ۴۸۵) ویقف الواحد ولوصبیًا محاذیا ای مساویا لیمین امامه علی المذهب الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار ص ۵۳۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظ

([3]). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۱۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۴. ولا مفترض بمتنفل وبمفترض فرضا آخر لان اتحاد الصلاتین شرط عندنا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۴۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۹). ظفیر

دولد الزنا امامت: **سوال**: (۱۱۴۴) دحرامی دامامت څه حکم دی؟ خصوصاً په داسی حالت کی چی په جومات کی لس لمونځ گذاره دی په هغوی کی یوحرامی دی اوهم هغه دمسائلو څخه خبر اوعالم دی نور نهه ۹ سړی جاهلان دی. نوپه دی صورة کی دشریعت څخه جاهل دی لمونځ ورکړی اوکه حرامی؟ مشهوره ده چی په حرامی پسی لمونځ درست نه دی.
جواب: په حرامی پسی لمونځ درست دی اوکمه چی په خلګو کی مشهوره ده، داغلطه ده اوپه صورةِ مسئوله کی دهغه امام جوړول بغیر کراهته درست اوجائز دی ولی چی دلمانځه په احکامو دټولو څخه زیات خبر دی. اوفقهاوو دکراهت وجه دا تحریر فرمایلی ده چی دحرامی څوك شفقت کونکی پلار نه وی لهٰذا هغه جاهل اوسی. نومعلومه سوه چی که چیری جاهل نه وی نوبغیر کراهته جائزدی بلکی په دی صورة کی دټولو څخه زیات حقدار هم دی، ده ته امام جوړول پکاردی. کما فی الدر المختار: الاحق بالامامة اعلمهم باحکام الصلٰوة نصباً واماماً وقال فی الهدایة یکره تقدیم الفاسق وولد الزنا لانه لیس له اب لیشفقه فیغلب علیه الجهل وفی الشامی ولو عدمت ای علة الکراهة بان کان الاعرابی افضل من الحضری والعبد من الحر وولد الزنا من ولد الرشدة والاعمی من البصیر فالحکم بالضد ([1]). فقط
زه تاسی ته ستاسی لمونځ درکوم داسی ویل څنګه دی؟ **سوال**: (۱۱۴۵) دجومات امام یوه ورځ دماښام لمونځ ونه کی، خلګو ځینی پوښتنه وکړه نوجواب یی ورکی چی زه خپل لمونځ نه کوم. تاسی ته ستاسی لمونځ درکوم دالفظ په کفر کی داخل دی او که نه؟ اوپه هغه پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟ اودچا په نظرکی چی نقصان وی دهغه امامت څنګه دی؟
جواب: (۱) دا دکفر په حکم کی نه دی. په داسی امام پسی لمونځ که څه هم درست دی لیکن مکروه تحریمی دی. واجب دی چی دی معزوله کړی اویو بل څوك امام جوړ کړی ولی چی ددی کلمی په وجهی سره به ورباندی دفاسق حکم کول کیږی.
دچاپه نظرکی چی نقصان وی خو دنجاساتو څخه ځان ساتلی سی. په هغه پسی لمونځ بی کراهته درست دی. اوکه چیری دپلیتیٔ څخه نسی ساتل کیدی نومکروه دی. په در مختار کی دی: ویکره امامة العبد ونحوه الاعمی. درمختار ([2]). فقط
دړیری خړیلی امامت: **سوال**: (۱۱۴۶) په یو ښار کی انګریزی مدرسه ده چی په هغه کی د

[1]. ردالمحتار. باب الامامة ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ . ظفیر
[2]. الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامت ص ۵۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ – ۵۶۰ . ظفیر

درسی تعلیم څخه علاوه دینیات هم ورښیی لیکن په سرکاری قانون باندی عمل کول کیږی. مثلاً نن صبا دمدرسی وخت دسهار لسو بجو څخه ترماپښین درو بجو پوری دی. په منځ کی پریوه بجه دلسو منټو چهټی کیږی اوهغه وخت هغوی راجمع سی اوپه جمع سره لمونځ اداء کوی. که چیری پرطلباوو باندی په څه وجهی سره ناوخته سی نوقطع نظر دنقصان څخه دسکول دطرفه دهغه څخه جواب طلب کیږی په دی وجهه که چیری ناوخته کیږی اوامام موجودنه وی نویو طالب علم کم چی ډیره خریی لیکن حافظ دقرآن او د لمانځه اوروژی پایینده دی اوپه نورو طلباوو کی لوړوالی لری هغه امام جوړول جائزدی اوکه نه؟ که چیری جائزنه وی نوهلکانو ته یوازی لمونځ کول اومدرسی ته تلل پکاردی اوکه نه؟

دمقرر امام داجازت څخه بغیر دهغه په موجودګی کی دبل سړی امامت: سوال: (۱۱۴۷) که چیری دمسلمانانو یوه ډله یوجومات ته ولاړه سی اوپرمقرر وخت باندی یاوروسته دامام په موجودګی یاغیر موجودګی کی دڅه ضرورت په وجهی سره په خپله ډله کی دټولو څخه مشر سړی امام جوړکړی اوپه جمع سره لمونځ اداء کړی نودجومات امام یابل چاته داحق سته، چی هغوی منع کړی اوکه داحق ورته نسته؟

جواب: (۱) که چیری ددغه جومات امام او لمونځ ګذار نه وی راغلی نو هلکانو ته په جومات کی جمعه کول نه دی پکار. البته که دجومات څخه خارج یو ځای وی نوپه هغه کی دی ځان ته جمع وکړی اوپه خپله ډله کی چی څوك دامامت لائق وی نوهغه دی امام جوړسی. لمونځ په هریو مسلمان پسی کیږی. دافرق ضرور دی چی نیك سړی پسی زیات ثواب دی. اوپه ډیره خریلی پسی لمونځ مکروه کیږی اوثواب یی کم دی. قال فی الجوهرة ص **۵۸** : فان تقدموا جاز لقوله ﷺ صلوا خلف کل بر وفاجر.

(۲) دجومات دمعین امام څخه ماسوا بل سړی ته ددغه جومات دامام په موجودګی کی یاغیر موجودګی کی دمعین امام داجازی څخه بغیر امام جوړیدل اوجمعه کول نه دی پکار. که چیری دمعین امام او دمحلی دلمانځه ګذارو په جمعه کی دوخت له لحاظه فرق وی نودا خلګ دی خپله جمعه دجومات څخه خارج په یو ځای دالان یاصحن یاځنګل کی وکړی. اوکه په جومات کی یی هم وکړی نولمونځ به یی صحیح سی لیکن هغوی ته په دغه رکم جمعه کول ښه نه دی. دجومات دلمانځه ګذارو اوجمعی انتظار دی وکړی، کنی جلا جلا دی وکړی. غرض داچی دمحلی دخلګو اودمقرر امام څخه ماسوا دبلی محلی سړیو ته دامناسب نه دی چی دمحلی دخلګو دجمعی څخه مخکی په دغه جومات کی جمعه وکړی اوکه وی هم کړی نو دمحلی خلګ بیا جمعه کولی سی اودمخکی جمعی

ثواب به همدوی ته ورکول کیږی. هغه جمعه کمه چی مخکی وسوه اودمخکی جمعی ثواب به هم دوی ته ورکول کیږی. هغه جمعه کمه چی مخکی وسوه دهغې به هیڅ اعتبار نه وی. هٰکذا فی کتب الفقه. فقط، دلیله قول الدر المختار: ویکره تکرار الجماعة باذان واقامة فی مسجد محلة ؒ قال الشامی تحت قوله باذان واقامة ؒ یکره تکرار الجماعة فی مسجد محلة باذان واقامة الا اذا صلی بهما فیه غیر اهله او اهله لکن بمخالفة الاذان (الی ان قال) والمراد بمسجد المحلة ماله امام وجماعة معلومون الخ شامی ص ۵۱۶ ج۱.

داذان څخه وروسته په جمعه کی تاخیر وسی اوکه فوراً وسی؟ سوال: (۱۱۴۸) داذان څخه وروسته دی جمعه فوراً ودریږی اوکه انتظار وسی؟

جواب: داذان څخه وروسته په جمعه کولو کی دوخت دوسعت اوقلت لحاظ دی وسی، او دلمانځه ګذارو رعایت دی وسی. چی څنګه موقعه اومصلحت وی، هغه شان دی وسی. په شریعت کی ددی دپاره څه مینتونه مقرر نه دی چی داذان څخه وروسته په دومره مینتونو باندی جمعه کیدل پکاردی، بعضی وختونه وسیع وی په هغه کی دی دهغه موافق عمل وسی. بعضی (وختونه) تنګ دی په هغه کی دی دهغه موافق عمل وسی (۱). فقط

چی دبل چا ښځی سره څوک نکاح وکړی دهغه امامت څنګه دی؟ سوال: (۱۱۴۹) دیو جومات امام دیوی ښځی نکاح کړیده کمه چی پردی منکوحه ده، او هغه طلاق نه دی ورکړی. دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ بینوا تؤجروا.

جواب: امامت دداسی سړی په وجه دفاسق کیدلو مکروه تحریمی دی. فقط کتبه رشید احمد. الجواب صحیح عزیز الرحمٰن عفی عنه. ودلیله ماقال فی الدر المختار: وکره امامة عبد وفاسق وقال فی الدر المختار قال فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. در مختار ص ۵۲۳ ج۱ اوپه عالمګیری کی دی: لا یجوز للرجل ان یتزوج زوجة غیره وکذالك المعتدة ص ۳۸۰ ج۱.

دولد الزنا عالم دامامت متعلق فیصله وفرمایاست: **سوال**: (۱۱۵۰) دزید وینا ده چی دولد الزنا صالح اوعالم امامت جائز اواولی اوصحیح دی. بکر وایی چی مکروه دی. دلائل ددواړو سره موجود دی. صحیح قول کم یو دی ؟

---

(۱). وَيَفْصِلُ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ كِمِقْدَارَ رَكْعَتَيْنِ أَوْ أَرْبَعٍ يَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ نَحْوًا مِنْ عَشْرِ آيَاتٍ. كَذَا فِي الزَّاهِدِيِّ وَالْوَصْلُ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ مَكْرُوهٌ بِالِاتِّفَاقِ، ثم قال: وَأَمَّا إذَا كَانَ فِي الْمَغْرِبِ فَالْمُسْتَحَبُّ ان يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا بِسَكْتَةٍ يَسْكُتُ قَائِمًا مِقْدَارَ مَا يَتَمَكَّنُ مِنْ قِرَاءَةِ ثَلَاثِ آيَاتٍ قِصَارٍ. فتاوٰی عالمګیریه ص ۵۳ ج۱ مطبوعه مصر، ط. م. ج۱ ص ۵۷. جمیل الرحمٰن

جواب: دزیدخبره حق ده یعنی که چیری ولدالزنا صالح اوعالم وی، نوپه هغه پسی لمونځ بغیر کراهته جائزدی. کما فی الشامی: ولوعدمت ای علة کراهته بان الاعرابی افضل من الحضری والعبد من الحر وولد الزنا من ولد الرشدة والاعمٰی من البصیر فالحکم بالضد. شامی جلد اول ص ۵۲۳. کتبه عزیز الرحمٰن عفی عنه مفتی مدرسه عربیه دیوبند، مهر

دلاندینیو اوصافو لرونکی دتولیت قابل دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۵۱ \۱) زید مؤمن کامل دی. نهایتی متبع دشریعت محمدیه علی صاحبها الصلوة والسلام دی. دمدرسه عالیه عربیه دیوبند فارغ التحصیل دی. دمشهورو عالمانو مثلاً حضرت تهانوی، مولانا عبد الرحیم صاحب رأی پوری وغیره په نزد دهغه علمیت او صلاحیت دافتاء قابل داعتماد دی. دحضرت الحاج امدادالله صاحب رحمه الله څخه یې غائبانه بیعت دی. دحضرت ممدوح دوفات څخه وروسته دحضرت مولانا گنگوهی" څخه یې دبیعت تجدید وکی، دهغوی دوفات څخه وروسته یې دحضرت شاه عبدالرحیم صاحب رأی پوری څخه دبیعت تجدید وکی. داسلام دتبلیغ اودخلق الله دهدایت اودعوامو مومنانو داحوالو داصلاح کامله جذبه په زید مذکور کی سته، اودهمدی مطابق عمل کوونکی دی، زید مذکور طبیب هم دی، اومذهبًا اومعاشًا په جامع مسجد کلان کیرانه کی امامت کوی. داخترونو امامت هغه ته حواله دی. دضرورت مطابق په ښار اوکلیو کی داسلام دمخالفینو دحملو او اعتراضونو جواب ورکوی، په کال کی څلور پنځه واره درخصتی ورکولو څخه وروسته دشپږو ورځو دپاره دخپلو ضروریاتو یادنورو کسانو دحاجاتو دپاره دهېواد دباندی هم ځی او دمفوضه خدماتو څخه غیر حاضری دزبانی یا تحریری اجازی څخه وروسته کوی. دداسی سړی په باره کی لاندی درج سوی خبری دجواب غوښتونکی دی: (۱) چی دزبانی یاتحریری اجازی څخه وروسته زید مذکور غیر حاضری وکړی نو په دی وجهی سره زید مذکور ته ځوك چی دمسجد کیرانه امام دی فحش اوخلاف شان تنبیه کونکی اوفحش خلګو ته په بدګویی باندی آماده کونکی اوتر معتند به زمانی پوری دامامت څخه معطل کونکی چی دهغه په وجهی سره تفریق بین المومنین پیدا نه سی شرعًا دوقف دتولیت قابل دی اوکه نه دی؟ اومسلمان کامل دی اوکه نه دی؟

په چاکی چی دا لاندینی خبری وی هغه امام کیدی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۵۲\۲) که چیری یو مذهبی خبردار یاناخبره سړی دزید مذکور سره دذاتی غرض اوعداوت وغیره په زبانی یاتحریری ډول په ډیرو یالږو خلګوکی دا اعتراض وکړی چی زید دغیر حاضری دورځو دتنخواه حق نه لري، حالانکی هغه درخصتی دورځو څخه وروسته غیر حاضر

سوی دی. دمعترض غرض په دی اعتراض سره دادی چې عوام دزید څخه بد عقیده سی اوداخیال وکړی چې زید دامام کیدلو باوجود خپله روزی حراموی.
نوکه چیری زید خپل نه بلکی دټول اهل اسلام اوداسلام توهین ګڼلو سره داجواب ورکړی چې ستا ددی سره څه تعلق دی چې حلاله روزی حاصلوم، یا ناجائزه اوحرامه. زه پخپله داخبره ښه پیژنم. بیاپه ادب سه دا ووایی چې ته دخپلی روزی حلالی اوحرامی ته وګوره. کما قال الله تعالٰی: لنا اعمالنا ولکم اعمالکم ونحن له مخلصون، ددی جواب په لحاظ سره زید دامامت قابل پاته سو اوکه نه؟ اودهغه په ایمان اواسلام کی څه نقص راغی اوکه نه؟

ددی جګړی تصفیه څه ده: سوال: (۱۱۵۳) په کم ځای کی چې زید مذکور امام اوواعظ اومفتی دی. هلته په سنه ۱۹۱۱ ع کی یوباقاعده ګؤرکشه (دغوښی بندولو تنظیم) قائم سوی دی چې دهغه دکوشش اثر دهندوانو څخه متجاوز سوی دی. بعضی مسلمانانو ته هم رسیدلی دی چې هغوی په حیثیت دمنصب دار کیدلو دهغه دبقاء اودوام اومقاصدو ترسره کولو کوشش کوی. دغوښی خوړلو قباحت اودصحت دپاره دهغه مضر کیدل وغیره بیانوی اوچونکه هندو قوم غوښه خوړل مذهبًا اوګؤرکشه (غوښه نه خوړل) مذهبی عقیده ګڼی، ددی دپاره ددوو درو مسلمانانو په شرکت سره دهغه دممتاز اوباحیثیت کیدلو په وجه سخت مضرت محسوس کیږی، اوپه دی حرکت سره په مسلمانانوکی په خپلو کی دمناظرو اومباحثو نوبت راغلی دی. ددی تفریق لیری کولوپه خیال سره دبعضو دردمندو اواهل دانش دارایه سوه چې حضرت تهانوی مدظله ته دی استفتاء ولیکل سی اوجواب دی راوغوښتل سی، دپاره ددی چې هغه شرعی ناطقه فیصله وګڼی اودګؤر کشی دښه والی یابدوالی څخه خبرسی. نو فتوٰی ددی حرکت څخه خلاف صادره وفرمایل سوه. چونکی حقانی عالمانو په دی فتوٰی کی داتصریح فرمایلی وه چې په ګؤرکشا کی شرکت کونکی کفر ته نژدی دی، اوهغوی ته ددی عمل څخه په تلوار سره توبه کښل فرض دی، ددی دپاره زید مذکور درمضان شریف په جمعة الوداع کی دوعظ په دوران کی دبعضو باوقعتو اودردمندو حضراتو په خواهش باندی دناخبره مسلمانانو آګاه کولو په غرض سره دحضرت تهانوی فتوٰی واوروله اودا اعلان یی وکی چې دا زما ذاتی رایه نه ده بلکی دمعتمد عالم حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی فتوٰی ده. بعضو کم فهمو خلګو ددی تذکره دګؤرکشا معاونو اوممبرانو حضراتو ته وکړه چې په دی باندی هغوی ډیر برهم سول او دمولوی عبدالله ټونکی څخه یی دمخکنی فتوٰی په جواب کی داستفتاء دعبارت په رد اوبدل کولو سره وروسته یوه فتوٰی راوغوښته اودزید مذکور

اوحضرت تهانوی په شان کی یی نازیبا الفاظ وویل اوخپل ځان یی په حقه ثابت کی او په دی خلګو باندی یی دکفر الزام ولګوی. دمولانا عبد الله صاحب ټونکی څخه په دغه اندازکی په سوال کولو سره دجواب حاصلولو باندی دمستفتی اودهغه دهم خیاله خلګو متعلق پوښتنه کول دی چی داخلګ څنګه دی؟ اوزید مذکور اوحضرت تهانوی څنګه دی؟ او دزید دامامت متعلق ددی شور جوړیدو څخه وروسته شرعًا څه حکم دی؟ او د مخالفینو دپاره داهلِ فتنه کیدلو څخه علاوه شرعی حکم څه دی؟
جواب: زید کم چی په مذکوره صفاتو سره متصف دی. بی شکه اوشبهی شرعًا په خصوصیت سره دامامت مستحق دی اودهغه امامت باعث دفضیلت او دحضور ﷺ دارشاد مطابق دی. دداسی سړی دامامت څخه انحراف اوناخوښی ظاهرول اودهغوی په ضرر رسولو پسی کیدل حالانکی هغه په ذکرسوو خبرو سره متصف دی دديندارو کارنه دی. کما ورد فی الهدایه: من صلی خلف عالم تقی فکانما صلی خلف نبی. په عالم امام پسی لمونځ قبولیت ته زیات نژدی دی. لقوله ﷺ ان سرکم ان تقبل صلاتکم فليؤمكم علمائكم، فانهم وفدكم فی مابينكم وبين ربكم، رواه الطبرانی واخرج الحاکم والبیهقی نحوه) اودده امامت خیرِ کثیر دی. قال فی شرح المنية ومن كراهة تقديم الفاسق على ما يأتی ان العالم اولی بالتقديم اذا كان يجتنب الفواحش وان كان غيره أورع منه ذكره فی المحيط. وقال فی شرعة الاسلام (فی فصل فی فضيلة الصلٰوة مع الجماعة) ويؤم الناس اعلمهم بالسنة.
(۱) امام مذکور (زید) کله چی داطلاع څخه وروسته ځی نودا په غیر حاضری سره تعبیر کول سخت جهالت دی اوپردی سربیره هغه ته علی الاعلان فحش اوخلاف شان وینا کول دکاملو دیندارو کارنه دی. کم خلګ چی داسی حرکت کوی هغوی واقعی په خلاف باندی دی او عالم ته بلا سببه بدویل اودهغه په شان کی ګستاخی کول واقعی فسق دی او د متولی فسق موجب دعزل دی: وان الناظر اذا فسق استحق العزل شامی ص۲۳۲ ج۳.
کم سړی چی عالم ته بدرد وایی او ښکنځل کوی دهغه په حق کی دفقهی په کتابونو کی سخت وعیدونه راغلی دی. قال فی شرح الفقه الاکبر لملا علی قاری: من ابغض عالما من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر قلت الظاهر انه يكفر لانه اذا ابغض العالم من غير سبب دنيوی او اخروی فيكون بغضه لعلم الشريعة الخ (شرح فقه اكبر، فصلٌ فی العلم والعلماء ص ۲۱۳) او دضرورت په وجه دامام دباندی ته تلل اودځو ورځو دپاره دامامت دوظیفی ورکولو څخه غیر حاضر اوسیدل دتنخواه نه ورکولو موجب نه دی: قال فی الشامی عن القنية امام يترك الامامة لزيارة اقربائه فی الرساتيق اسبوعًا اونحوه اولمصيبة او لاستراحة لاباس به ومثله عفو فی العادة

والشرع، شامی ص٥٦٤ ج۳.
غرض داچی ددی عبارت څخه په ښه شان واضحه ده چی که چیری داجازی څخه بغیر هم امام دیوځو ورځو دپاره یوځای ولاړسی نودرست دی او دغیر حاضری دمودی تنخواه حلاله ده په دی شرط چی دا دشرعی عذر څخه بغیر حاضری په ټوله کال کی دیوی هفتی دپاره وی. کما قال فی الشامی. وهٰذا مبنی علی القول بان خروجه اقل من خمسة عشر یوماً بلا عذر شرعی لا یسقط معلومه وقد ذکر فی الاشباه فی قاعدة العادة محکمة عبارة القنیة هذه وحملها علی انه یسامح اسبوعاً فی کل شهر الی ان قال ان الظاهر ان المراد فی کل سنة. شامی ص ٥٦٤ ج۳.
غرض داچی ددی عبارتونو څخه کم چی دفقهی دمستندو کتابونوڅخه را اخیستل سوی دی، داخبره په ښه شان سره ښکاره سوه چی په دی معامله کی شریعت وسعت فرمایلی دی. نو په امر موسع شرعی باندی څوك متهم کول او بدنامول درست نه دی.
لهٰذا که چیری امام په ټول کال کی یوه هفته بغیر دشرعی عذر څخه او بغیر داجازی دمتولی وغیره څخه هم غیرحاضرسی نودا معاف ده. اودغیر حاضری ددی مودی تنخواه اخستل هم درست دی. اوکه چیری دڅه شرعی عذر په وجهی سره غیر حاضر سی او رخصت واخلی څنګه چی په سوال کی مذکور دی نودیوی هفتی تعیین هم نسته. (زیاته هم اخستی سی. عارف)
(۲) زید ته داسی جواب ورکول نه وو پکار دکم څخه چی دحلالی روزی حاصلولو څخه بی پروایی اوپه ظاهره بی رغبتی معلومیږی ولی چی حلاله روزی حاصلول، حلال خوراك اودحرام څخه بچ کیدل په نص قطعی سره مامور به دی. قال الله تعالی: یآ ایها الرسل کلوا من الطیبات واعملوا صالحا الاٰیة. سورة مومنون پ ۱۸ رکوع ۱۴ قال المفسرون اراد بالطیبات الحلال. (خازن جلد ۵)
نوذکر سوی اعتراض جواب داورکول پکارنه وو چی ستاددی سره څه تعلق دی. ځکه دامر بالمعروف سره دهرمسلمان تعلق ضرور سته اودنیت حال حق تعالی شانه ته معلوم دی نو جواب ددی اعتراض داورکول پکار وو چی زه حلاله روزی خورم اوحلاله تنخواه اخلم، داډول تنخواه اخستل شرعًا حرام نه دی. دحلالی روزی په حاصلولو کی ماته اوتاسی ته، ټولوته اهتمام کول پکاردی. لیکن زید ددی جواب په وجه سره کافر یا فاسق نه سو چی دامامت څخه دمعزوله کولو مستحق سی اوامامت دهغه جائز پاته نه سی.
(۳) دګوٗرکشا شرکت کم چی دبعضو مسلمانانو څخه صادرسوی دی هغه دسزاقابل دی، اوڅه چی حضرت مولانا اشرف علی صاحب سلمه په دی باره کی تحریر فرمایلی دی هغه

حق اوعین ایمان دی. اودحضرت مولانا سلمه داتحریر فرمایل چی دهغه حالت کفرته نژدی دی پرمزید احتیاط باندی مبنی دی کم چی دعلماء ربانیین عادت راروان دی.
کما قال فی شرح الفقه الاکبر وقدذکروا ان المسئلة المتعلقة بالکفر اذاکان لها تسع وتسعون احتمالاً للکفر واحتمال واحدة فالاولٰی للمفتی والقاضی ان یعمل بالاحتمال الثانی لان الخطاء فی ابقاء الف کافر اهون من الخطاء فی افناء مسلم واحد. شرح فقه اکبر لملاعلی القاری مجتبایی ص ۱۹۹.
اودتوبی متعلق چی کم حضرت مولانا سلمه تحریر فرمایلی دی چی په تلوار سره توبه کول باندی فرض دی. دفقهی کتابونو اودشریعت محمدیه علی صاحبها الف الف سلام وتحیه مطابق دی. کما قال فی الدر المختار (عن شرح الوهبانیة ما یکون کفرا اتفاقا یبطل العمل والنکاح واولاده اولاد زنا وما فیه خلاف) یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح. درمختار علی الشامی ص ٤١٤ ج۳. لیکن افسوس دی پرهغه حضراتو باندی چی ددی ناطق بالحق فیصلی څخه منحرف سول اوپه همدی حضراتو پسی یی بدرد ویل شروع کړل. خو دچا نقصان یی وکی؟ خپل عافیت یی خراب کی کما ورد فی الحدیث الشریف من قال لاخیه یاکافر فقد باء بها احدهما (رواه البخاری ومسلم) اوعالمانو ته دبد رد ویلو متعلق چی کم عبارت دشرح فقه اکبر څخه تحریر سو هغه دغور قابل دی. خاصکر دداسی حقانی عالمانو په تکفیر پسی کیدل خپل دین اوایمان بربادول دی چی دهغه څخه ددی خلګو پرحال باندی افسوس دی اودخرابی خاتمی بیره ده. ددی خیال څخه دی رجوع وکړی کنی دخسر الدنیا والاٰخرة مصداق به جوړسی. کما ورد فی الحدیث القدسی من عادٰی لی ولیًا فقد اذنته بالحرب. والله لایحب الفساد وفی البحر الرائق ویکفر بقوله المسلم یا کافر عند البعض والمختار للفتوٰی انه یکفر ان اعتقده کافرا الا ان اراد شتمه انتهی ص ۱۳۳ ج ۵.
اوکم خلګ چی داهل حق تکفیر کوی هغه تکفیر پر هم دوی باندی راګرځی. قال فی شرح الفقه الاکبر ومن قال یاکافر فسکت المخاطب کان الفقیه ابوبکر البلخی یقول یکفر هٰذا القاذف ای الشاتم. شرح فقه اکبر مجتبایی ص ۲۲۳.
اودګؤرکشا شرکت په حقیقت کی دکفر اعانت دی اوداسلام دسپکاوی اوبربادی فکر دی. قال الله تبارك وتعالٰی: وتعاونوا علی البر والتقوٰی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان الاٰیة. سورة مائده پ۷ رکوع ۵. اوپه دی کی شریکیدل او دغوښو خوړلو مذمت او مضرت ثابتول سخته بی باکی اوخطرناك دی. قال فی شرح الفقه الاکبر ولوشبه نفسه بالیهود والنصارٰی ای صورة اوسیرة علی طریق المزاح والهزل ای ولو علی هٰذا المنوال

کفر (شرح فقه اکبر مجتبایی ص ۲۲۸) وفیه ایضًا (عن الخلاصة) من قال احسنت لما هو قبیح شرعًا اوجودت کفر (شرح فقه اکبر ص ۲۳۳) قال الله تبارك وتعالی: وَلَایَرْضٰی لِعِبَادِهِ الکفر الآیة (وقال الله تعالی) وَمَنْ یُّضْلِلِ اللہُ فَمَالَهُ مِنْ هَادٍ. اوحضرت مولانا اشرف علی صاحب سلمه بیشکه په ربانی عالمانو کی دی، دسلفو نمونه دی، الله والا دی، حق گویه دی، چی هرځومره دهغوی تعریف وسی کم دی اوپه آیت کریمه: ولتکن منکم امةٌ یدعون الی الخیر ویأمرون بالمعروف وینهون عن المنکر واولئك هم المفلحون (الآیة) کی داخل دی اوددی مصداق دی. دهغوی سره محبت کوونکی انشاء الله کامیابی ته رسیدونکی دی اودبغض لرونکو حالت خطرناکه دی. قال (الشیخ ولی الله الدهلوی رحمه الله) فی القول الجمیل (فی علامات العالم الربّانی) ومنها مواساات الفقراء وطالب العلم بقدر الامکان فان لم یقدر وکان له اخوان موافقون حرضهم وحثهم علی المواسات فاذا وجدت هذه الصفات مجتمعة فی شخص واحد فلا تشکن انه وارث الانبیاء والمرسلین وانه الذی یدعی فی الملکوت عظیماً وانه الذی یدعو له خلق الله حتی الحیتان فی جوف الماء ورد فی الحدیث فلازمه لا ینو تنك فانه الکبریت کبریت الاحمر (شفاء العلیل ترجمه قول الجمیل ص ۱۰٤).

اوپاته سوه داخبره چی بل عالم ددی حضراتو تکفیر کړی دی نودا (خبره) دتوجه قابله نه ده: واعلم من انتصب منصب الهدایة والدعوة الی الله ما اخل فی شیئ من هذه الامور فانه فیه ثلمة حتی یسدها الخ بهرحال امام مذکور یقینًا دامامت لائق دی اودهغه عقائد، اوحالات اوصفات کم چی په سوال کی ذکرسوی دی هغه دعقائدو داهل سنت والجماعة موافق دی اودشریعت پیروی ده. که چیری فی الواقع په دی سړی کی دغه صفات سته نو دهغه په عالم ربانی کیدلو کی څه شبهه ده اودهغه متابعت اواقتداء ضروری ده. فقط والله تعالی اعلم وعلمه اتم

په تاش (**یوقسم لوبه**) **کونکی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟** **سوال**: (۱۱۵۴) یوسړی بغیر دګټلو او بایللو څخه تاش کوی په هغه پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په هغه پسی لمونځ مکروه دی ولی چی دګټلو او بایللو څخه بغیر هم تاش کول ممنوع اومکروه دی. دداسی لهو اولعب څخه مسلمانانو ته احتراز لازم دی. فقط والله تعالی اعلم مفتی مدرسه

وکره تحریم اللعب بالنرد وکذا الشطرنج واباحه الشافعی وابویوسف وفی روایة وهذا اذا لم یقامر ولم یداوم ولم یخل الواجب والا فحرام بالاجماع آه (درمختار) دتاش حالت دشطرنج په شان دی. دلیله قاله فی الدر المختار ویکره کل لهو لقوله ﷺ کل لهو المسلم حرام الا

ثلاثة ملاعبته اهل وتأديبه لفرسه ومناصلته بقوسه وقال فى ردالمحتار كل لعب عبث فالثلاثة بمعنٰى واحد كما فى شرح التأويلات والاطلاق شامل لنفس الفعل ص ۳۴۷ ج ۵ .

دهوا خارجيدلو مريض امام چي كم لمونځ وركي دهغه څه حكم دي؟ سوال: (۱۱۵۵) يو سړي دهوا خارجيدلو مريض دى. ډير واره په بى خبرى كى هم هوا ځينى خارجيږى، په داسى حالت كى هغه تردرى مياشتو پورى امامت وكى. ددى ځخه مخكى به يى هم كله كله لمونځ وركوى. وروسته چي پوره معلومه سوه چي معذوره دى نولمونځ وركول يى پريښوول. په داسى صورة كى امام اومقتديانو دپاره څه حكم دى؟ كه چيرى دامام په وينا سره هغوى خپل لمونځونه راونه ګرزوى نوپه هغوى باندى څه حكم دى؟ اوكم لمونځونه چي هغه كله كله په يو موقع باندى وركړى وو دهغه څه حكم دى؟

جواب: كه چيرى دامعلومه اويقين نه وى چي كم لمونځونه هغه وركړى دى په هغه كى هوا خارجه سويده يعنى دهوا خارجيدلو په هغه كى يقين نسته اوياد ورته نه دى نو لمونځونه دټولو وسول. كما فى الدر المختار. وصح لو توضأ على الانقطاع وصلى كذلك. فقط والله تعالى اعلم.

واذا ظهر حدث امامه وكذا كل مفسد فى رأى مقتد بطلت فيلزم اعادتها كما يلزم الامام اخبار القوم اذا أمهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او ركن وهل عليهم اعادتها ان عدلا نعم والا ندبت وقيل لا لفسقه باعترافه. آهـ درمختار.

په غير مقلد پسى لمونځ درست دى اوكه نه؟ سوال: (۱۱۵۶) ما قولكم رحمكم الله تعالٰى فى هذه المسئلة (اقتداء الحنفى خلف غير المقلدين جائز ام لا ؟) بينوا تؤجروا.

جواب: حامدا ومصليا اقول التفصيل عندى ان غير المقلدين هم اصناف شتٰى فمنهم من يختلف مع المقلدين فى الفروع الاجتهادية فقط ، فحكمهم فى جواز الاقتداء بهم للحنفية كالشافعية حيث يجوز بشرط المراعاة فى الخلافيات الصلٰوتية وفاقا وعند عدم المراعاة خلافا وبالاولى افتى الجمهور فان امر الصلٰوة مما ينبغى ان يحتاط فيه ومنهم من يختلف فى الاجتماعيات عند أهل السنة كتجويز نكاح ما فوق الاربع وتجويز المتعة وتجويز سب السلف وامثال ذلك وحكمهم كاهل البدعة حيث يكره الاقتداء بهم تحريمًا عند الاختيار وتنزيهاً عند الاضطرار وحيث يشتبه الحال فالاولٰى ان يقتدى بهم دفعاً للفتنة ثم يعيد اخذاً بالاحوط، ولو كانت الفتنة فى الاقتداء فلا يقتدى صونا للمسلمين عن التخليط فى الدين. والله تعالٰى اعلم وعنده علم اليقين والحق المبين .

الكاتب: حضرت مولانامولوى اشرف على صاحب، ثانى يوم من ذى الحجة سنة ۱۳۲۹هـ من الهجرة المقدسة.

باب الإقتداء والصف

فصل رابع

(څلورم فصل)

صف، اقتداء، او دامام او مقتدی مقام

چی په مخکی صف کی ځای نه وی نو یوازی سړی دی څه وکړی: سوال: (۱۱۵۷) د مقتدیانو یوصف په امام پسی دی په هغه کی دبل مقتدی ځای بالکل نسته. اوس چی کم سړی راسی نوهغه کم ځای ودریږی. په دوهم صف کی یوازی، اوکه دمخکنی صف څخه څوك مقتدی راواخلی اودهغه سره ودریږی.که چیری دمخکنی صف څخه دی واخلی نودکم ځای څخه دصف دشروع څخه اوکه داخیر څخه، که چیری یې داخیر څخه راوباسی نوپه لمانځه کی به څه نقصان راسی اوکه نه ؟

جواب: که چیری په صف کی ځای ورپیدانه سی نو انتظار دی وکړی چی بل څوك راسی. که چیری رانه سی نودصف څخه دی داسی سړی راکش کړی څوك چی په مسئله پوهیږی. که چیری داسی سړی په نظر رانه سی نویوازی دی په امام پسی اودصف څخه وروسته (۱) ودریږی. انتظر حتی یجیئ اخر فیقفان خلفه وان لم یجیئ حتی رکع الامام یختار اعلم الناس بهذه المسئلة فجذبه ویقفان خلفه ولو لم یجد عالما یقف خلف الصف بحذاء الامام لضرورة ، کذا (۲) فی الشامی.

که دبالغ سره په صف کی نابالغه یو ځای سی نوڅه حرج خونسته: سوال: (۱۱۵۸) که چیری یونابالغه هلك دجمعی راسته طرفته یا چپه طرف ته راسی اوپه لمانځه کی شریك سی یا دصف په مینځ کی دبالغو خلکو سره راغی او ودریدی نوپه لمانځه کی به څه نقصان راځی اوکه نه؟

جواب: که چیری یو نابالغ وی نوپه صف کی دی ودریږی، ثم الصبیان ظاهره تعددهم فلو واحدا دخل الصف (۳).

په رکوع او سجده کی الصاق کعبین : سوال : (۱۱۵۹) الصاق کعبین رکوع وسجود سنت

(۱). وکذا القیام منفردا، وإن لم یجد فرجة، بل یجذب أحدا من الصف. ذکره ابن الکمال، لکن قالوا: في زماننا: ترکه أولی، (درمختار) والاصح ما روی هشام عن محمد انه ینتظر الی الرکوع فان جاء رجل والا جذب الیه رجلا اودخل فی الصف ثم قال فی القنیة والقیام وحده اولی فی زماننا لغلبة الجهل علی العوام (رد المحتار باب ما یفسد الصلوة، ومایکره فیها ص ۲۰۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۴۲). ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الامامة مطلب کراهة قیام الامام فی غیر المحراب ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۵۶۸. ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص۵۳۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱. ظفیر

است یا چی؟ آیا الصاق قدمین خود مراد است یا الصاق کعب بکعب غیر مراد است.
جواب: فی الدر المختار: ویسن ان یلصق کعبیه قال فی الشامی قال السید ابو السعود وکذا فی السجود (۱) ایضًا الخ. پس ظاهر این است که کعبین خود را باهم ملصق کند وممکن است که مراد محاذات کعبین باشد واز ارجاع ضمیر درکعبه بسوی مصلی احتمال ثالث ساقط شد یعنی ضم کعب خود بکعب غیر مراد نخواهد شد. فقط

چی دمخکی څخه دامام په اړخ کی صرف یو سړی وی بیا نور خلک راسی نوڅه به کوی؟

سوال: (۱۱۲۰) دامام راسته طرف ته یو مقتدی دی، وروسته څو کسان نور راغلل او په امام پسی یی دسجدی په فاصله صف جوړکی. لمونځ صحیح سو اوکه نه؟
جواب: کله چی دامام سره یوسړی راسته طرف ته وو، بیا نور راغلل، نومقتدی ته یا امام ته به خپل ځای پرینبوول وی اوکه چیری داسی ونه سوه اوبعضی مقتدیان دصف په فاصله ودریدل نولمونځ سره دکراهته جائزدی. شامی جلد اول: ولوقام واحد بجنب الامام وخلفه صف کره (۲) اجماعًا. فقط

مقتدیان به څنګه دریږی: **سوال**: (۱۱۲۱) په لمانځه کی مقتدیان اوږی داوږو سره او بجلکی دبجلکو سره یوځای کړی ودریږی اوکه څنګه؟
جواب: یوځای دریدل اوپه مینځ کی ځای خالی نه پرینبوول سنت دی. قدم دقدم سره دیو ځای کولو مطلب دادی چی سیده اوبرابر دی وی مخ ته شاته دی نه وی. (۳) فقط

په صف کی هوار والی به څنګه وی: **سوال**: (۱۱۲۲) دجمعی په لمانځه کی به بجلکی برابری وی اوکه څنګه؟
جواب: بجلکی دبجلکو سره برابر سیده کیدل پکاردی اواوږه داوږی په برابری کی کیدل پکاردی. په دی سره به صف سیده سی په درمختار کی دی، ویسوا مناکبهم (۴). فقط

دمینځ صفونه خالی پریښوول او وروسته دریدل څنګه دی؟ **سوال**: (۱۱۲۳) که چیری په جماعت سره لمونځ کیدی او یوڅو کسانو یو یادوه صفونه په مینځ کی پرینبوول او وروسته ودریدل نو دهغوی لمونځ کیږی اوکه نه ؟
جواب: لمونځ یی صحیح سو خودا خلاف دسنت دی. صفونه متصل ساتل پکار دی او په

(۱). ردالمحتار. باب صفة الصلوة بعد الفصل ص ۴۲۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۹۳ . ظفیر
(۲). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸ . ظفیر
(۳). ویصف ای یصفهم الامام بان یامرهم بذالك ، قال الشمنی وینبغی ان یامرهم بان یتراصوا ویسدوا الخلل ویسووا مناکبهم (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸ . ظفیر
(۴). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸ . ظفیر

مینځ کی خالی ځای پریښوول نه دی پکار. (۱) فقط

دپردې شاته اقتداء درسته ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۲۴) په جومات کی دننه جمعه کیږی، کوچنی پردی راځړیږی، دهغه څخه دباندی چی کم سړی پرلمانځه ولاړدی دهغوی لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: دهغوی لمونځ هم (۲) صحیح دی. فقط

یوازی نابالغ کم ځای ودریږی: سوال: (۱۱۲۵) که چیری نابالغه هلك یوازی وی نودسړو دصفونو څخه وروسته یوازی ودریږی اوکه دسړیو په صف کی شریك سی؟

جواب: یوازی هلك دی دسړیو په صف کی شریك سی. کذا فی الشامی (۳).

چی دبالغو صف پوره نه وی اووروسته دنابالغو صف پوره سی نو وروسته راتلونکی په کم ځای کی شامل سی: سوال: (۱۱۲۶) په امام پسی دسړیو جماعت لږدی او ورپسی دنابالغو هلکانو جماعت ډیردی. که چیری مسبوق بالغ سړی په مخکنی صف کی دریدل غواړی نو دهلکانو جماعت ته څه رکم ووایی؟

جواب: که چیری دهلکانو مخته ولاړسی یاصف وڅیری او دبالغانو په صف کی یوځای کیدی سی نوولاړ دی سی اودبالغو په صف کی دی شریك سی اوکه چیری ممکن نه وی او دهلکانو په صف کی ودریږی نوبیا هم لمونځ صحیح (۴) دی.

په دستمال ایښولو سره په صف کی دځای حقدار ګرځی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۲۷) دلته یو جومات دی چی په هغه کی یوڅو صاحبانو زید، عمر، بکر وغیره داطریقه جاری کړیده چی دجمع څخه مخکی خپل خپل دستمال وغیره په مخکی صف کی کښیږدی او داودس وغیره دپاره ولاړسی اوپه دی کار سره خپل ځان ددغه ځای حقدار ګڼی. مثلاً خالد داذان څخه وروسته اودجمعی څخه مخکی دخپل کور یاحجری څخه په اوداسه کی تیار راسی

---

(۱). وصلی علی رفوف المسجد ان وجد فی صفه مکانا کره کقیامه فی صف خلف صف فیه فرجة (در مختار) هل الکراهة فیه تنزیهیة اوتحریمة ویرشد الی الثانی قوله ﷺ ومن قطعه قطعه الله (رد المحتار باب الامامة مطلب فی الصف ص ۵۳۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰). ظفیر

(۲). والحائل لا یمنع الاقتداء ان لم یشتبه حال امامه بسماع اورؤیة ولو من باب مشبك یمنع الاصول (الدر المختار) قوله بسماع ای من الامام اوالمکبر قوله اورؤیة ینبغی ان تکون الرؤیة کالسماع لافرق فیها بین ان یری انتقالات الامام اواحد المتقدیین (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۲). ظفیر

(۳). ثم لصبیان ظاهره تعددهم فلو واحد دخل الصف (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱). ظفیر الدین غفرله

(۴). فلوشرعوا وفی الصف الاول فرجة له خرق الصفوف (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۹). ظفیر

اودمخکی صف په شوق کی حاضرسی نوداصاحبان ورته یوقسم مانع جوړیږی. که چیری هغه دچاکپړه وغیره راسته یاچپه طرف ته کشوی اوسنت کوی نوهغه ته غیر مستحق اوزیاتی کونکی وایی. نوآیا زید اوعمر وغیره په دغه ذکرسوی فعل سره دمخکی صف مستحق دی اوکه خالد کم چی تیار راغلی دی اودمخکی صف دپاره حاضر سوی دی؟

جواب: په ردالمحتار باب الوتر والنوافل کی دی: قال فی القنية له فی المسجد موضع معين يواظب عليه وقد شغله غيره قال الاوزاعی له ان يزعجه وليس له ذلك عندنا آهـ لان المسجد ليس ملكاً لاحد بحر عن النهاية، قلت وينبغی تقييده بما اذا لم يقم عنه علی نية العود بلا مهلة كما لو قام للوضوء مثلاً ولا سيما اذا وضع فيه ثوبه لتحقق سبق يديه (۱) الخ. ددی عبارت څخه معلومه سوه چی مخکی راتلونکی چاچی دستمال ایښی دی او داودس دپاره تللی دی دواپس راتلو په نیت سره چونکی دهغه قبضه مخکی وسوه نوبل سړی وروسته راتلونکی دی دهغه ځای نه اخلی. فقط

په صف کی تنګی پیداکول څنګه دی؟ سوال: (۱۱۲۸) په همدی جومات کی چی جمعه ودریږی نوبعضی خلګ سره ددی چی په مخکی صف کی ځای نه وی خامخا په مخکنی صف کی راننوزی. اودا ظاهره ده چی کله په صف کی دپنځه ویشتو سړیو ځای وی اوپه هغه کی اوه ویشت سړی په زور زور راسی نوددغه زیاتو په وجهی سره صف بالکل کوږ سی اولمونځ ګذار مخ ته وروسته سی، علاوه ددی څخه لمونځ ګذارو ته سخته تنګی او تکلیف وی. نوآیا دغه بعضو زیاتو صاحبانو ته به په مخکی صف کی په راننوتلو سره دمخکی صف ثواب ورکول کیږی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار وينبغی ان يأمرهم بان يتراصوا ويسدو الخلل ويسووا مناكبهم (۲) الخ ددی حاصل دادی چی امام دی متقدیانو ته حکم وکړی چی ښه نژدی نژدی ودریږی او ددوو لمونځ ګذارو ترمینځ خالی والی مه پریږدی اوخپلی اوږی برابری کړی. نوکه چیری په مخکی صف ګنجائش وی نوبیا دذکرسوی حکم په موجب په مخکی صف کی دریدل اوپه مینځ کی فراخوالی بندول مستحب اومسنون دی اوکه چیری ځای نه وی نودمخکی صف لمونځ ګذارو ته تکلیف ورکول مناسب نه دی. (۳) فقط

---

(۱). ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها مطلب فيمن سبقت يده الی مباح ص ۲۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۶۲ . ظفير

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۸. ظفير

(۳). قال فی المعراج الافضل ان يقف فی الصف الاخر اذا خاف ايذاء احد، قال ﷺ من ترك الصف الاول مخافة ان يؤذی مسلما اضعف له اجر الصف الاول وبه اخذ ابوحنيفة ومحمد (ردالمحتار باب الامامة ص۵۳۲ ج۱ ، ط. =

چې هلکان ديوه څخه زيات وي نو وروسته دې ودريږي: **سوال:** (۱۱۶۹) دوه کسان ځوانان دی اوڅلور پنځه هلکان دی هلکان په صف کی ودريږی اوکه وروسته؟

جواب: په دی صورة کی دی هلکان وروسته ودريږی. (١) فقط

بی ريری هلک په صف کی درول څنګه دی؟ **سوال:** (۱۱۷۰) دزيد ديو نابالغه بی ريری هلك سره محبت دی اودی هغه سره ددی چی نور نابالغه هلکان سته، دبالغانو په جمعه کی يی دخپل ځان سره دروی. ددی څه حکم دی؟

جواب: بی ريری مخ والا هلك په جمعه کی په يوځای درولو سره بعضو فقهاوو دلمانځه دفساد حکم فرمايلی دی که څه هم اصح عدم فساد دصلوة دی، اونظر بالشهوة يی دهغه طرف ته حرام ليکلی دی. نوپه لمانځه کی داسی هلك (دځان سره) يوځای درول نه دی پکار. (٢) اواصل مسئله داده چی که چيری هلکان ډير وی، نودهغوی صف دسړيو څخه وروسته پکاردی. اوکه صرف يوهلك په جمعه کی وی نوهغه ته دسړيو په جمعه کی دريدل درست دی. (٣) ليکن کم صورة چی په سوال کی درج دی په دی صورة کی په هيڅ شان اوپه هيڅ حالت کی دغه هلك ځان سره درول درست نه دی. فقط

دنابالغه په مخکی صف کی کيدل اوبالغ وروسته. دادرست دی اوکه نه؟ **سوال:** (۱۱۷۱) که چيری يو سړی دخپل ځان سره نابالغه هلك په مخکی صف کی ودروی اونور بالغ سړی په دغه هلك پسی په دوهم صف کی ودريږی نوددغه خلګو په لمانځه کی به کراهت وی اوکه نه؟ اوتحريمی به وی اوکه تنزيهی. او دټول صف لمونځ به صحيح کيږی، اوکه ديو خاص؟

جواب: سنت طريقه داده چی دهلکانو صف دی په بالغانو پسی وی، ليکن په درمختار کی دی چی که چيری دجمعی په ابتداء کی صرف يوهلك نابالغه وی، نو هغه دی دسړيو په صف کی شامل سی. ددرمختار عبارت دادی: ثم الصبيان ظاهره تعددهم فلو واحداً

= س. ج۱ ص ۵۲۹). ظفير

(١). يصف الخ الرجل الخ ثم الصبيان ظاهره تعددهم (درمختار) وکذا لوکان المقتدی رجلا وصبيا يصفهما خلفه (رد المحتار باب الامامة جلد اول ص ۵۳۴ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱). ظفير

(٢). ومحاذات الامرد الصبيح المشتهی لايفسدها علی المذهب، تضعيف لما فی جامع المحبوبی ودرر البحار من الفساد لانه فی المرأة غير معلول بالشهوة بل بترك فرض المقام (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۹ ج۱) ولايجوز النظر اليه بشهوة کوجه امرد فانه يحرم النظر الی وجهها ووجه الامرد اذا شك فی الشهوة (ايضًا باب شروط الصلوة مطلب فی النظر الی وجه الامرد ص ۳۷۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۰۷). ظفير

(٣). يصف الخ الرجال ثم الصبيان ظاهره تعدد هم فلو واحد دخل الصف (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱). ظفير

دخل الصف (۱). اوپه شامی کی یې ویلی دی چی صاحب بحر په دی باره کی دحضرت انس ﷺ حدیث فصففتُ انا والیتیم وراءه الحدیث (۲) څخه استدلال کړی دی. نو ددی حدیث اودر مختار درروایت څخه معلومه سوه چی که چیری یوبالغ هلك په جمعه کی وی نوهغه دی دبالغانو په صف کی شامل سی، اوکه چیری نابالغه هلکان ډیر وی نوهغوی دی دبالغانو دصف څخه وروسته ودرول سی.

بهر حال دامعلومه سوه چی که چیری نابالغه هلك دسړیو په صف کی ودریدی اودهغه څخه دواړو طرفوته بالغان دریدل نوددغه بالغانو په لمانځه کی څه فساد اوکراهت رانه غی. فقط

دښځی اوخاوند جمعه درسته ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۷۲) دښځی اوخاوند جمعه درسته ده اوکه نه؟

جواب: دښځی اوخاوند جمعه په داشان چی دواړه برابر ولاړوی ځنګه چی دیومقتدی کیدلو په صورة کی حکم دی درست نه دی. په دی صورة کی به دیوه لمونځ هم ونسی (۳). فقط

(لیکن که دښځی قدمونه وروسته وی نو (لمونځ) درست دی. ظفیر)

چی امام په مصلی باندی وی اومقتدیان په فرش وی نودادرسته ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۷۳) چی امام په مصلی باندی ودریږی لمونځ ورکوی اومقتدیان په فرش باندی همداسی وی. جائز دی اوکه نه؟ **جواب**: جائزدی. فقط

چی امام په تخت وی اومقتدیان په فرش وی، نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۷۴) په ګرمی اوبارانی هوا کی دمار، لړم دبیری څخه که چیری دماخستن اودسهار لمونځ ته امام دجومات په فرش باندی تخت واچوی اولمونځ ورکوی اومقتدیان همداسی په فرش باندی وی نودا جائز دی اوکه نه؟

جواب: که چیری دغه تخت دیوذراع هومره لوړ وی نو مکروه دی، کنی جائزدی. کما فی الدر المختار: وانفراد الامام علی الدکان للنهی وقدر الارتفاع بذارع ولابأس بمادونه وقیل ما یقع به الامتیاز وهو الاوجه (۱) الخ بهر حال داسی نه کول ښه دی. فقط

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱. ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الامامت ص ۵۳۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱ . ظفیر

(۳). وقال المرأة اذا صلت مع زوجها فی البیت ان کان قدمها بخداء قدم الزوج لا تجوز صلاتهما بالجماعة وان قدماها خلف قدم الزوج الا انها طویلة تقع راس المرأة فی السجود قبل رأس الزوج جازت صلاتهما لان العبرة للقدم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲) ظفیر.

په دَرْ کې ددریدونکې مقتدی څه حکم دی؟ سوال: (۱۱۷۵) په یو جامع مسجد کې څو درونه (یعنې دستنو مینځونه) دی. دجمعې په وخت کې په هر درکې مقتدیان ودریږی. غرض دادی چې کم مقتدیان په دَرْکې ودریږی اودجُمعې لمونځ اودجماعت لمونځ ادا کوی دهغوی هم هغومره ثواب دی کم چې په مخکې صف کې دی اولمونځ ادا کوی اوکه دجماعت دثواب څخه محرومه سول، دجماعت لمونځ خوبې په کراهت سره اداء نسو؟ آیا دلمانځه په کیدلو کې احتمال سته؟

که چیرې دلمر دتاؤ په وجهې سره ددر څخه دباندی په صحن کې لمونځ دزړه په اطمینان سره نسی اداء کیدی اوپه دی وجهې سره دجومات په درونو کې په دریدلو سره دجمعې لمونځ اداء سی نوپه دی صورة کې څه حکم دی؟

جواب: قال الشامی والاصح ماروی عن ابی حنیفة رحمه الله انه قال اکره ان یقوم بین الساریتین. ددی روایت څخه صفا معلومه سوه چې امام ته ددوو ستنو په مینځ کې ددریدلو څخه ځان ساتل لازم دی. نومعلومه سوه چې بې ضرورته په ستنو یعنې درونو کې دریدل مکروه دی، خولمونځ کیږی اودجمعې ثواب هم ورته حاصلیږی. اوکه چیرې په یودرکې ډیر سړی دریدی سی چې کوچنې غوندی صف دهغوی څخه جوړسی اوددی ضرورت وی نوپه دی کې به کراهت هم په ظاهره نه وی. فقط والله تعالٰی اعلم. کتبه عزیز الرحمٰن. (والاصطفاف بین الاسطوانتین غیر مکروه لانه صف فی حق کل فریق الخ مبسوط ص ۳۵ ج۲).

دمنبر په وجهې سره که چیرې په صف کې فاصله پاته سی نوڅه وکړی؟ سوال: (۱۱۷۶) د جومات په مخکنې صف کې منبر حائل اوسی په دی وجهې سره په مخکنې صف کې تقریبًا دوه لاسه دمنبر په اندازه ځای خالی اوسی. نودا فصل باعث دکراهت دی اوکه نه؟ او که چیرې ټول صف مخ ته سی نودبعضو سجده به پردغه منبر باندی کیږی. آیا دا صحیح ده؟

جواب: دافصل ضروری باعث دکراهت نه دی اودسجدی ځای که چیرې دنیم ذراع په مقدار لوړ وی نوداهم درست دی اودضرورت په وجه ددی څخه په زیات لوړوالی کې هم حرج نسته. ولوکان موضع سجوده ارفع من موضع القدمین بمقدار لبنتین منصوبتین جاز وان اکثر لا الا لزحمة الخ درمختار. ([2]) فقط

که چیرې مقتدی خپله خاص مصلی وغوړوی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۷۷) دسهار دلمانځه

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ص ۲۰۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۴۲ . ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار. باب صفة الصلاة فصل تالیف الصلاة ، ج۱ ص۴۷۰ ، ط.س. ج۱ ص ۵۰۸ . ظ

تکبیر وسو، یوسړی په صف کی ځان ته خپله مصلّی وغوړوله، کمه چی ددری وه حالانکی امام اوټول لمونځ ګذارو پر چټائی باندی لمونځ کوی. په همدی وجه یوسړی هغه منع کی، دهغه په جواب کی هغه وویل چی داجائز دی اومصلّی یی لوړه کړه اوجلا یی وغوړوله او (یوازی یی) لمونځ وکی. چی مصلی یی بیله وغوړوله اولمونځ یی وکی نو دامام توهین خو ونسو؟

جواب: په دی کی هیڅ حرج نسته اوڅه ضرورت هم نسته، بعضو فقهاوو احتیاط داسی لیکلی دی چی خپله مصلی په یوازی ساتلو کی څه حرج نسته. اودامام په دی کی هیڅ توهین نه دی. دادمنع کونکی غلطی ده اونا خبریت دی چی اعتراض یی باندی وکی او هغه یی دجمع څخه محرومه کی. په درمختار کی دی: حمل السجادة فی زماننا اولی احتیاطًا ؒ. نو په داسی کار باندی کم چی بعضو عالمانو جائز لیکلی دی انکار او اعتراض کول مناسب نه دی. که څه هم هغه ته ددی څه ضرورت هم نسته ولی چی دجومات ځینی پاکی دی هغه پاکی ګڼل پکاردی، او دعامو لمونځ ګذارو برابر خپل ځان لرل پکاردی. (١) فقط

دصف څخه وروسته یوازی دریدل اولمونځ کول څنګه دی؟ سوال: (١١٧٨) دصف څخه بیل دریدل اولمونځ کول درست دی اوکه نه؟ اولمونځ صحیح سو اوکه نه؟

جواب: لمونځ صحیح سو خوبی عذره یوازی دریدل مکروه دی. (٢)

دمخکنی صف دخالی ځای ډکولو دپاره پرچا لوړ اوښتل څنګه دی؟ سوال: (١١٧٩) یوسړی په صف کی خالی ځای پریښووی او وروسته کښېنستی اوبل سړی ترهغه لوړ واوښتی اوپه خالی ځای باندی کښېنستی نوڅه حرج خو پکښی نسته؟

جواب: کم سړی چی مخ ته خالی ځای ولیدی اوپربل لوړ واوښتی اوهلته کښېنستی په هغه باندی هیڅ ګناه نسته. اوچاچی سره ددی چی مخکی خالی ځای وو او وروسته کښېنستل یی اختیار کړل نوهغه خلافِ اولی کار وکی (٣).

---

(١). ایضاً الدر المختار علی هامش ردالمحتار.

(٢). وکذا یکره للمقتدی ان یقوم خلف الصفوف وحده اذا وجد فرجة فی الصفوف (عالمګیری کشوری ص ١٠٢ ج١ ، ط. م. ج١ ص ١٠٧). ظفیر

(٣). ولو وجد فرجة في الاول لا الثاني له خرق الثاني لتقصيرهم، وفي الحديث من سد فرجة غفرله (درمختار) وَفِي الْقُنْيَةِ قَامَ فِي آخِرِ صَفٍّ وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ الصُّفُوفِ مَوَاضِعُ خَالِيَةٌ فَلِلدَّاخِلِ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ لِيَصِلَ الصُّفُوفَ لِأَنَّهُ أَسْقَطَ حُرْمَةَ نَفْسِهِ فَلَا يَأْثَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيْهِ ، دَلَّ عَلَيْهِ مَا فِي الْفِرْدَوْسِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " [مَنْ نَظَرَ إلَى فُرْجَةٍ فِي صَفٍّ فَلْيَسُدَّهَا بِنَفْسِهِ ؛ فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ فَمَرَّ مَارٌّ فَلْيَتَخَطَّ عَلَى رَقَبَتِهِ فَإِنَّهُ لَا حُرْمَةَ لَهُ] " أَيْ فَلْيَتَخَطَّ الْمَارُّ عَلَى رَقَبَةِ مَنْ لَمْ يَسُدَّ الْفُرْجَةَ. اهـ (رد =

مقتدی ته دامام په صف کی لږ وروسته دریدل څنګه دی؟ سوال: (۱۱۸۰) زید داختر امام دی، کم وخت چی زید داختر لمونځ ورکوی نودزید راسته اړخ ته بکر یوه لویشت وروسته اوعمر دزید چپه طرف ته یوه لویشت وروسته، اوباقی لمونځ ګذار په سمه طریقه دریږی، نولمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی لمونځ کیږی خو داهیئت دسنت څخه خلاف دی اومکروه دی. په درمختار کی دی فلو توسط اثنین کره تنزیهًا، بیامخ ته لیکی: ولوقام واحد بجنب الامام وخلفه صف کره اجماعًا. (۱)

په صف کی دامام راسته اوچپه طرف ته ناهمواری او دانتقالاتو په تکبیرونو په جهر اوسر کی توازن: **سوال**: (۱۱۸۱) یوامام چپه طرف ته زیات مقتدیان ساتی اوراسته طرف ته کم. اوپه لمانځه ورکولو کی یی داحالت دی چی کله خو دانتقالاتو تکبیرونه په داشان اداء کوی چی ټول جومات خوپریږده ټوله محله وګړنګیږی اوکله داسی په کراره اونزاکت سره آخری سلام وګرزوی چی مقتدیان باندی خبر هم نسی. په داسی حالت کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: امام ته په مینځ کی دریدل پکاردی اودواړه طرف ته برابر مقتدی درول پکاردی، چپه طرف ته زیات مقتدیان درول دسنتو خلاف دی، سنت طریقه داده چی کم وخت جمع دریږی نودواړه طرف ته دی برابر مقتدیان (۲) وی. بیا چی څوك وروسته راسی اوشریك سی نوهغوی ته هم دالحاظ ساتل پکاردی چی حتیٰ الوسع دی دواړو طرفونو ته یوډول په جمعه کی شریك سی. اوامام ته دحد څخه زیات جهر یا دحد څخه زیاته اخفاء دواړی خبری خلاف دسنتو (۳) دی. فقط

دمقتدی او امام تر مینځه فاصله : **سوال** : (۱۱۸۲) د مقتدی د سجدی د ځای څخه د امام

= المحتار باب الامامة ص ۵۳۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰) ظفیر.

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۶ . ظفیر

(۲). وینبغی للامام ان یقف بازاء الوسط فان وقف فی میمنة الوسط او فی میسرته فقد اساء لمخالفة السنة هٰکذا فی التبیین الخ فان تساوت المواضع ففی یمین الامام وهو الاحسن (عالمگیری الباب الخامس فی الامامة فصل خامس ص ۸۳ ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۸۹) ظفیر.

(۳). ویجهر الامام بتکبیرة رکوع وغیره وهو ظاهر الروایة (عالمگیری مصری، الباب الرابع فی صفة الصلوة ص ۶۹ ج۱، ط. م. ج۱ ص ۷۲. وجهر الامام بالتکبیر بقدر حاجته للاعلام بالدخول والانتقال وکذا بالتسمیع والسلام (درمختار) قوله بقدر حاجته للاعلام الخ اوکره اهـ قلت هٰذا اذا لم یفحش الخ واشار بقوله والانتقال الی ان المراد بالتکبیر هنا مایشمل تکبیر الاحرام وغیره وبه صرح فی الضیاء (ردالمحتار باب صفة الصلاة مطلب سنن الصلاة ص ۴۴۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۵). ظفیر

ددریدلو دځای ترمینځ څومره فاصله ساتل پکاردي؟

جواب: په مینځ کی دصف فاصله پریږدي، اوڅه تحدید یی نسته. [۱] فقط

په اخترونو کی دامام سره برابر لږ وروسته دریدل څنګه دي: **سوال**: (۱۱۸۳) یوسړی داختر په لمونځونوکی قصداً دامام سره برابر لږ قدر وروسته دریږی اولمونځ کوی دهغه په لمانځه کی او دمقتدیانو په لمانځه کی به څه خرابی وی اوکه نه؟

جواب: ددغه برابر دریدونکی سړی په لمانځه کی کله چی هغه دامام څخه څه وروسته وی اودنورو مقتدیانو په لمانځه کی څه فساد اوخلل نه راځی. لمونځ دټولو صحیح دی لیکن بغیر دخاص ضرورته لکه دځای وغیره تنګوالی څخه یوسړی ته دجمعی څخه جلا کیدل اویوازی دامام سره برابر دریدل مکروه دی، ښه نه دی. [۲]

دنابالغو صف دی کم ځای وی؟ **سوال**: (۱۱۸۴) که چیری دوه دری بالغان وی اودری څلور نابالغه هلکان وی نوپه یوصف کی دی علی الترتیب ودریږی اوکه بالغان په یوصف کی اوهلکان په بل صف کی وروسته ودریږی؟

جواب: نابالغه هلکان چی ډیری وی نودبالغانو څخه وروسته دی ودریږی په یو صف کی دی نه دریږی [۳]. فقط

دیومقتدی دبل مقتدی سره پښی یوځای کول څنګه دي؟ **سوال**: (۱۱۸۵) پښی یوځای کول چی دراسته طرف دمقتدی چپه پښه دچپه طرف مقتدی دراسته پښی سره ولګیږی په دی سره لمونځ فاسدیږی اوکه نه؟

جواب: لمونځ خوپه دی سره نه فاسدیږی لیکن داکار دهغوی خلافِ سنت دی [۴]. فقط

صف پوره وو یوسړی راغی او وروسته یوازی ودریدی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۱۸۶) دجمعی په لمونځ کی پوره صف ډك وو، یولمونځ ګذار ته په صف کی ځای پیدانه سو، هغه یوازی ودریدی، لمونځ وسو اوکه نه؟ یاهغه په جمعه کی شامل سو اوکه نه؟ که

---

[۱]. والزائد یقف خلفه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۷) دومره فاصله دی وی چی رکوع اوسجدی ته دتللو په وخت کی دی دمقتدی سر دامام سره نه ټکریږی والله اعلم. ظ

[۲]. ویقف الواحد محاذیا أي مساویا لیمین إمامه، ولا عبرة بالرأس بل بالقدم، فلو صغیرا فالاصح ما لم یتقدم أكثر قدم المؤتم لا تفسد # والزائد یقف خلفه ولو قام واحد بجنب الامام وخلفه صف كره اجماعا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۶). ظفیر

[۳]. ولو اجتمع الرجال والصبیان الخ یقوم الرجال مایلی الامام ثم الصبیان (عالمګیری مصری باب خامس فصل خامس ص ۸۳ ج۱ ، ط. ماجدیه. ج۱ ص ۸۸ – ۸۹). ظفیر

[۴]. وما روی انهم الصقوا الكعاب بالكعاب ارید به الجماعة ای قام كل واحد بجانب الاخر (رد المحتار باب صفة الصلوة بحث القیام ص ۴۱۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۴۴) ظفیر.

چیری دصف څخه بل سړی دخپلی ملګرتیا دپاره اخیستل وغواړی نودکم اړخ څخه دی واخلی؟

جواب: که چیری هغه یوازی وروسته ودریدی په دی وجه چی په مخکنی صف کی ځای نه وو نودهغه لمونځ بی کراهته وسو لیکن ښه داده چی دمخکنی صف څخه ثوك راکش کړی اودځان سره یوځای یی ودروی په دی شرط چی دچا دلمونځ فاسدکیدلو بیره نه وی مثلاً داچی کم سړی راکش کړی هغه ددی مسئلی څخه خبر وی او دهغه په راکشولو سره پوه سی چی ماته وروسته کیدل مناسب دی اواختیار یی دی چی دصف دکم ځای څخه غواړی راکش دی کړی لیکن دنژدی څخه ښه دی اوپه دی زمانه کی په دی وجه چی عموماً خلګ دمسائلو څخه ناخبره دی که چیری راکشول مناسب ونه ګڼی نونه دی را کشوی ولی چی لمونځ دیوازی (سړی) هم کیږی (۱). فقط

<u>نابالغ چی یوازی وی دبالغو په صف کی به ودریږی</u>: **سوال**: (۱۱۸۷) که چیری دزید عمر دیارلس کاله سوی وی نوهغه ته په مخکی صف کی دریدلو سره کله چی په دوهم صف کی بل څوك موجودنه وی دچاپه لمانځه کی خوبه څه نقصان نه راځی؟

جواب: په دی صورة کی کله چی دغه هلك یوازی دی هغه ته دمخ په صف کی شاملیدل پکاردی. په دی سره به دچاپه لمانځه کی څه نقصان نه راځی. کذافی الشامی (۲). فقط

<u>په صف کی کم ځای ثواب زیات دی؟</u> **سوال**: (۱۱۱۱۸۸) په صف کی داړخونو په اعتبار سره په ثواب کی کمی زیاتی سته اوکه برابر ثواب ورکول کیږی؟ اوڅوك چی امام ته مخامخ ولاړوی هغه ته زیات ثواب ورکول کیږی اوکه څنګه؟ اوامام سره نژدی عالمانو ته دریدل پکار دی اوکه جاهل هم دریدی سی؟ جاهل به امام ته دنژدی ځای څخه ولاړول کیږی اوکه نه؟

---

(۱). وقدمنا كراهة القيام في صف خلف صف فيه فرجة للنهي، وكذا القيام منفردا، وإن لم يجد فرجة، بل يجذب أحدا من الصف. ذكره ابن الكمال، لكن قالوا: في زماننا: تركه أولى، فلذا قال في البحر: يكره وحده إلا إذا لم يجد فرجة (درمختار) وَالْأَصَحُّ مَا رَوَى هِشَامٌ عَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يَنْتَظِرُ إلَى الرُّكُوعِ ، فَإِنْ جَاءَ رَجُلٌ وَإِلَّا جَذَبَ إلَيْهِ رَجُلًا أَوْ دَخَلَ فِي الصَّفِّ ، ثُمَّ قَالَ فِي الْقُنْيَةِ : وَالْقِيَامُ وَحْدَهُ أَوْلَى فِي زَمَانِنَا لِغَلَبَةِ الْجَهْلِ عَلَى الْعَوَامّ فَإِذَا جَرَّهُ تَفْسُدُ صَلَاتُهُ اهـ قَالَ فِي الْخَزَائِنِ قُلْت : وَيَنْبَغِي التَّفْوِيضُ إلَى رَأْيِ الْمُبْتَلَى ، فَإِنْ رَأَى مَنْ لَا يَتَأَذَّى لِدِينٍ أَوْ صَدَاقَةٍ زَاحَمَهُ أَوْ عَالِمًا جَذَبَهُ وَإِلَّا انْفَرَدَ . اهـ قُلْت : وَهُوَ تَوْفِيقٌ حَسَنٌ اخْتَارَهُ ابْنُ وَهْبَانَ فِي شَرْحِ مَنْظُومَتِهِ (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ص ۲۰۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۲۴۵ - ۲۴۲) . ظفير

(۲). ثم الصبيان ظاهره تعددهم فلو واحد دخل الصف الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱) ظفير.

په جومات کی دځای حاصلولو حکم: **سوال**: (۲\۱۱۸۹) په جومات کی دمخکی ځخه په جامه دستمال وغیره اینبوولو سره قبضه کول درست دی اوکه نه؟ که چیری یو سړی دجومات ځخه ولاړسی اودضروری حوائجو دپاره دجومات ځخه دباندی ووزی اوپه خپل ځای باندی دستمال پریږدی نودی به ددغه ځای مستحق وی اوکه نه؟ اوکه په دغه ځای باندی ځوك کښېنستی نوهغه سړی دی ولاړ کړل سی اوکه نه؟

جومات ته دمخکی راتللو زیات ثواب به وی اوکه نه؟ **سوال**: (۳\۱۱۹۰) ځوك چی جومات ته مخکی راسی هغه ته به ثواب ورکول کیږی اوکه چاته؟

معتکف چی ضرورت دپاره دباندی ولاړ سی نو کم ځای دی کښینی؟ **سوال**: (۴\۱۱۹۱) که چیری یومعتکف دحوائج ضروریه ؤ دپاره دمسجد ځخه دباندی ولاړسی، دبیرته راتللو ځخه وروسته دی پرمقرر ځای باندی کښېنی یاپرکم ځای چی غواړی هلته کښېنستلی سی؟

راسته طرفته داذان اوچپه طرفته داقامت کولو هیڅ ثبوت نسته: **سوال**: (۵\۱۱۹۲) راسته طرفته داذان اوچپه طرفته داقامت کولو شرعی ثبوت سته اوکه نه؟

جواب: (۱) په شامی کی دی: قوله وخیر صفوف الرجل اولها الخ لانه روی فی الاخبار ان الله تعالی اذا انزل الرحمة علی الجماعة ینزلها اولا علی الامام یتجاوز عنه الی من بحذائه فی الصف الاول ثم الی المیامن ثم الی المیاسر ثم الی الصف الثانی الخ. بیا ددی ځخه وروسته یی وفرمایل: قال فی المعراج ان الافضل ان یقف فی الصف الآخر اذا خاف ایذاء احد الخ. [1]

ددی عباراتو ځخه معلومه سوه چی په مخکی صف کی هم په اعتبار دجوانبو په ثواب کی کمی او زیاتی سته. کم سړی چی امام ته مخامخ دی په هغه باندی درحمت نزول زیات دی. خوکه نورو لمونځ گذارو ته تکلیف وی نوبیا ښه داده چی دغه ځای پریږدی اوښه داده چی نژدی عالمان، صالحان ولاړوی لیکن جاهل هم ولاړول نه دی پکار. اوهغه ته تکلیف ورکول نه دی پکار [2].

(۲) په شامی کی دی وینبغی تقییده بما اذا لم یقم عنه علی نیة العود بلا مهلة کما لو قام للوضوء مثلاً ولاسیما اذا وضع فیه ثوبه لتحقق سبق یده [3].

---

[1]. وگوری رد المحتار مطلب فی جواز الایثار بالقرب ص ۵۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۹ . ظفیر

[2]. نبوی ارشاددی: لیلنی منکم اولو الاحلام والنهی ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم (مشکوٰة ص ۹۸) . ظفیر

[3]. ردالمحتار باب مایفسده الصلوٰة ومایکره فیها مطلب فیمن سبقت یده الی مباح ص ۲۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۲۲ . ظفیر

ددی څخه معلومه سوه چی که چیری یو سړی دمخکی څخه راغی اوپه جومات کی پریو ځای باندی کښېښستی او بیا داودس وغیره په ضرورت سره دهغه ځای څخه ولاړیدی او په هغه ځای کی یی خپله کپړه کښېښوولی نوهغه ددغه ځای زیات مستحق دی. نوکه چیری بل څوك په دغه ځای باندی کښېښستی نوهغه یی پاڅولی سی. او ددی ذکر سوی حالت څخه بغیر په یوځای کی دستمال ایښوول اوقبضه کول ښه نه دی.

(۳) څوك چی مخکی راسی هغه ته به ثواب زیات ورکول کیږی.

(۴) په جومات کی چی کم ځای غواړی کښېښستی سی.

(۵) ددی هیڅ ثبوت نسته. فقط

دباران په وجه صرف څلور ګوتی وروسته صف درست دی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۹۳) دامام په برابری کی څلور ګوتی وروسته څنګه چی یو مقتدی ولاړ وی، صف جوړول دباران یا د ګرمی دعذر په وجهی سره، حالانکی صحن فراخه دی، داکار څنګه دی؟

جواب: درست دی. ([1]) فقط

که چیری دننه ځای باقی پاته نسی نو مقتدیان دی په درونو کی ودریږی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۹۴) که چیری دننه جومات ډك سی نو باقی لمونځ ګذار دی دجومات په درونو (دستنو مینځ) کی ودریږی، اوکه دباندی پرفرش باندی، غوره څنګه دی؟

جواب: په درونو کی دریدل ښه نه دی کله چی دباندی دجومات په فرش کی ځای موجود وی. ([2]) فقط

چی صفونه کم پلن وی نوسجده په فرش باندی کولی سی؟ سوال: (۱۱۹۵) که چیری دمصلی اوصف پلنوالی کم وی چی سجده ورباندی نه سی کیدی نوبیا دی پرصف او مصلی باندی وی اوکه لاندی؟

جواب: چی څه رکم غواړی ودی کړی برابره خبره ده که پښی یی په صف اومصلی باندی وی اوسجده یی په فرش باندی وی یاپښی یی لاندی وی اوسجده یی په صف باندی وی. فقط (دځای پاکوالی شرط دی. دمصلی موجودوالی ضروری نه دی. ظفیر)

په در یامحراب کی دامام دریدل څنګه دی کله چی هغه مقتدی ته ښکاری؟ سوال: (۱۱۹۶)

([1]). فلوقاموا علی الرخوف والامام علی الارض اوفی المحراب لضیق المکان لم یکره کما لوکان معه بعض القوم فی الاصح وبه جرت العادة فی جوامع المسلمین (درمختار) وظاهره انه لایکره ولو بلاعذر (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ویکره فیها ص ۲۰۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۲۴۲). ظفیر

([2]). ولهٰذا قال فی الولوالجیة وغیرها اذا لم یضق المسجد من خلف الامام لاینبغی لـه ذالك. (رد المحتار باب مایفسد الصلوة ویکره فیها ص ۲۰۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۲۴۲) ظفیر.

دیو جومات در اوستنه داسی ده چی که چیری امام په دغه دواړو ځایونو کی ودریږی اولمونځ ورکوی نومقتدیان په ښه ډول خپل امام ته کتلی سی نوپه داسی دواړو ځایونو کی لمونځ کول څنګه دی. آیا مکروه تنزیهی دی اوکه تحریمی؟

جواب: قال الشامی والاصح ماروی عن ابی حنیفة انه قال اکره ان یقوم بین الساریتین (¹) الخ ددی څخه معلومه سوه چی امام ته په در یا په محراب کی په دې ډول دریدل چی قدمونه یی هم دباندی نه وی، مکروه دی اومراد دمکروه څخه کراهت تنزیهی دی. ددی حاصل خلاف اولی دی. فقط

دوو کسانو لمونځ کوی چی دریم راغی نو امام مخ ته ولاړ سی اوکه مقتدیان وروسته سی؟

سوال: (۱۱۹۷) امام اومقتدی صرف دوه سړیان وی ددی وجه برابر دریږی. اوس دریم سړی بل راغی نواوس امام مخ ته سی اوکه مقتدیان را وروسته سی؟

جواب: په دی حالت کی که امام مخ ته ځی اوکه مقتدیان را وروسته کیږی دواړی خبری جائزدی. لیکن دمقتدی راوروسته کیدل ښه دی په نسبت دامام دمخکی کیدلو څخه. کما فی الشامی: وهو اولی من تقدمه لانه متبوع. (²) الخ

آیا په جمعه کی دیو مقتدی دبل سره په دریدلو کی پښی یوځای کول ضروری دی؟ سوال: (۱۱۹۸) غیرمقلدین په جمعه کی دیوبل سره پښی یوځای کوی اودحدیث څخه استنباط کوی، دحنفیه وو په نزد څه حکم دی؟

جواب: غیر مقلدین غلط وایی. صرف دقدمونو اواوږو وغیره دمحاذاتو حکم دی. همدا حنفیان هم وایی. (³) فقط

مخنث دسړیو په جماعت کی شاملیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۹۹) مخنث (یعنی نرښځی) دسړیو په جماعت کی په شاملیدلو سره لمونځ کولی سی اوکه نه؟ اوچی هغوی په جمعه کی شامل سی نودنورو مسلمانانو لمونځ کیدی سی اوکه نه؟ او هغوی چی دثواب په نیت کمی روپی وغیره په جومات کی ورکړی، نوهغه دجومات په ضروریاتو کی لګیدلی

(¹). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸ . ظفیر

(²). وَفِيهِ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ الزَّائِدَ لَوْ جَاءَ بَعْدَ الشُّرُوعِ يَقُومُ خَلْفَ الْإِمَامِ وَيَتَأَخَّرُ الْمُقْتَدِي الْأَوَّلُ ﴿ وَالَّذِي يَظْهَرُ أَنَّهُ يَنْبَغِي لِلْمُقْتَدِي التَّأَخُّرُ إِذَا جَاءَ ثَالِثٌ ﴿ فَإِنْ اقْتَدَى عَنْ يَسَارِ الْإِمَامِ يُشِيرُ إِلَيْهِمَا بِالتَّأَخُّرِ ، وَهُوَ أَوْلَى مِنْ تَقَدُّمِهِ لِأَنَّهُ مَتْبُوعٌ وَلِأَنَّ الِاصْطِفَافَ خَلْفَ الْإِمَامِ مِنْ فِعْلِ الْمُقْتَدِينَ لَا الْإِمَامِ ، فَالْأَوْلَى ثَبَاتُهُ فِي مَكَانِهِ وَتَأَخُّرُ الْمُقْتَدِي ﴿ (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۲). ظفیر

(³). وماروی انهم الصقوا الکعاب بالکعاب ارید به الجماعة ای قام کل واحد بجانب الاخر (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص ۴۱۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۴۴) ظفیر.

سی او که نه؟

جواب: مخنثان دسړیو په جمعه کی شاملیدی سی خو هغوی دی دسړیو دصف څخه وروسته ودریږی ([1]). اوپه جمعه کی دهغوی په شاملیدلو سره دنورو مسلمانانو لمونځ صحیح دی. او دهغوی روپی په جومات کی لګول درست ([2]) دی. فقط

چی په مخکی صف کی ځای وی نو په وروسته صفونو څیرلو سره هلته تلی سی اوکه نه؟

سوال: (۱۲۰۰) چی جمعه ولاړه وی اوټولو خلګ نیت تړلی وی یوسړی اودس وکی، او راغی اوپه مخکنی صف کی ځای سته نوداسی سړی دغاړی په صفونه څیری کولو سره په مخکنی یامینځ والا صف کی دریدی سی اوکه نه؟ اوګنهګار خوبه نه وی؟

جواب: دریدی سی اوهیڅ ګناه به نه وی. ([3]) فقط

دماشومانو دصف څخه په ورتیریدلو سره مخ ته تلی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۰۱) په مخکنی صف کی پنځه یاشپږ سړی دی اودوهم صف دماشومانو دی په کم کی چی پنځلس یا شپاړس هلکان دی یعنی دهلکانو صف دسړیو صف دراسته اوچپه طرف څخه ګیر کړی دی. اوس چی کم سړی راځی هغه دهلکانو دصف مخ ته دتیریدلو څخه ماسواپه مخکنی صف کی شاملیدی نه سی. نوهغه ته څه کول پکار دی؟

جواب: راتلونکی سړی دی په دی صورة کی دهلکانو دصف مخ ته تیرسی، او دسړیو په صف کی دی شامل سی ([4]). فقط

په جمعه کی مقتدیان داوړی په یو ځای کولو سره ودریږی اوکه په پښو یو ځای کولو سره؟

سوال: (۱۲۰۲) په لمانځه کی مقتدیان داوړی سره په اوږه یو ځای کولو سره خو دریږی. لیکن یوصاحب فرمایی چی دپښو سره پښې هم یوځای کول پکاردی. آیاپه حنفی مذهب

([1]). یصف الرجال الخ الصبیان الخ ثم الخناثی، ثم النساء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۱). ظفیر

([2]). که څه هم چی ګټه یې جائزه وی ځکه چی هغوی هم مسلمانان دی. ظفیر

([3]). ولووجد فرجة فی الاول لاالثانی له فرق الثانی لتقصیرهم وفی الحدیث من سد فرجة غفرله (درمختار) مَنْ قَامَ فِي آخِرِ صَفٍّ وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ الصُّفُوفِ مَوَاضِعُ خَالِيَةٌ فَلِلدَّاخِلِ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ لِيَصِلَ الصُّفُوفَ لِأَنَّهُ أَسْقَطَ حُرْمَةَ نَفْسِهِ فَلَا يَأْثَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيْهِ ، دَلَّ عَلَيْهِ مَا فِي الْفِرْدَوْسِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " [مَنْ نَظَرَ إلَى فُرْجَةٍ فِي صَفٍّ فَلْيَسُدَّهَا بِنَفْسِهِ ؛ فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ فَمَرَّ مَارٌّ فَلْيَتَخَطَّ عَلَى رَقَبَتِهِ فَإِنَّهُ لَا حُرْمَةَ لَهُ] " أَيْ فَلْيَتَخَطَّ الْمَارُّ عَلَى رَقَبَةِ مَنْ لَمْ يَسُدَّ الْفُرْجَةَ. (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰). ظفیر

([4]). لووجد فرجة فی الاولو لاالثانی وله فرق الثانی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰) ظفیر.

کی ددی حکم سته اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی حضور ﷺ داوړو یو ځای کولو او دصفونو برابرولو حکم فرمایلی دی او په بجلکوکی دسیده کولو حکم دی، ددی څخه غیر مقلدینو دبجلکو سره دبجلکو یوځای کولو حکم مستنبط ګڼلی دی، داپه ظاهره دهغوی څخه غلط فهمی سوی ده اواصل دادی چی داوړو یوځای کولو حکم په صحیح حدیث کی وارد سوی دی لهٰذا دا سنت دی اوکله چی ټول سړی اوږی یوځای کړی نو دټولو بجلکی یوځای کیدی نسی څنګه چی تجربه پردی شاهده ده. ددی وجه دبعضو صحابه ؤ ﷺ څخه خوالصاقِ کعاب منقول دی. ددی معنٰی برابرول اوسیده کول دی یعنی دټول صف سړی دی یو رکم سیده وی، نه داچی قدمونه او بجلکی دی مخکی او وروسته (١) وی.

داقتداء شرعی حدود څه دی؟ سوال: (۱۲۰۳ \۱) داقتداء دپاره شرعی څه حدود مقرردی. په لاندینو قلمی صورتونو کی کم یوصورة جائزدی اوکم یونه دی؟

سوال: (۱۲۰۷ \۲) امام پرلوړ ځای دی اومقتدیان کښته دی برابره خبره ده که راسته طرف ته وی اوکه چپه طرف ته اوکه وروسته. ددی بیادوه صورتونه دی یوداچی امام ته نژدی وی برابره خبره ده که په مینځ کی دیوال وغیره حائل وی یا نه وی. دوهم دا چی دامام څخه لیری وی برابره خبره ده که دیوال وغیره حائل وی یانه وی.

سوال: (۱۲۰۸ \۳) امام په لاندی ځای کی دی اومقتدیان لوړدی. ددی برابر لوړ څلور شکلونه.

سوال: (۱۲۰۹ \۴) دافریقی په دی علاقو کی داکثرو کورونو لاندینی حصه فرش او دلرګی وی او دهغه تر لاندی مزکی پوری دانسانی قد هومره کم اوبیش مجوف (یعنی خالی) وی په داسی صورتونو کی دجماعت خانی په لاندینی حصه کی هم مقتدیان دریدی سی اوکه نه؟

سوال: (۱۲۱۰ \۵) دجومات سره متصل اوسیدونکی یا لیری اوسیدونکی خوداسی چی دانتقالاتو تکبیرونه وغیره اوریدی سی. داسی سړی په خپل کور کی اقتداء کولی سی اوکه نه؟ مریض، ناجوړی، معذور یا مقیم په دی کی کم یو صورة دجواز دی؟

---

(١). عن النعمان بن بشیر قال : کان رسول الله ﷺ یسوي صفوفنا حتی کأنما یسوي بها القداح حتی رأی أنا قد عقلنا عنه ثم خرج یوما فقام حتی کاد أن یکبر فرأی رجلا بادیا صدره من الصف فقال: عباد الله لتسون صفوفکم أو لیخالفن الله بین وجوهکم. رواه مسلم (مشکوٰة باب تسویة الصف ص ۹۷) وعن ابی مسعود الانصاری قال کان رسول الله ﷺ یسمح مناکبنا فی الصلاة ویقول استووا (ایضاً) وما روی الصقوا الکعاب ارید به الجماعة ای قام کل واحد بجانب الاخر (ردالمحتار باب صفة الصلوة ص ۴۱۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۴۴) ظفیر.

جواب: (۱،۳،۲) که چیری امام یوازی په لوړ یا لاندی مقام باندی وی، نومکروه دی اوکه چیری دامام سره څه مقتدیان وی نوبیا په هیڅ حال کی کراهت نسته، لیری اونژدی کله چی صفونه متصل وی دواړه درست دی. (۱) په درمختار کی دی: کما لوکان معه بعض القوم فی الاصح (۲).

(۴) په دی کی هم همدا جواب دی چی که چیری دامام سره بعضی مقتدیان وی نو په لاندی حصه کی دریدل اواقتداء کول درست دی. (وګورئ حواله ماقبل. ظفیر)

(۵) دکور څخه دامام اقتداء کم چی په جومات کی دی نسی کولی، خوپه صورة داتصال دصفونو چی دجومات څخه ترکوره پوری برابر صفونه دمقتدیانو وی نوپه دی صورة کی اقتداء درسته ده. (۳) فقط

په امام پسی دی څنګه خلک ودریږی؟ سوال: (۱۲۰۴) په امام پسی څنګه مقتدیانو ته دریدل پکار دی، څوك چی مخکی راغی؟ برابره خبره ده که ددین علم څخه خبر وی یا نا خبره وی؟

جواب: امام ته نژدی داهلِ علمو اواهل عقلو دریدل ښه دی لیکن که چیری امام ته نژدی نور خلګ لمونځ ګذاره راغلی وی نو دهغوی دلیری کولو ضرورت نسته ولی چی لمونځ په هر رکم کیږی. (۴) فقط

دالصاق کعبین مطلب څه دی؟ سوال: (۱۲۰۵) الصاقِ کعبین یعنی دیوی پښی بجلکی د

---

(۱). الا اذا اتصلت الصفوف فیصح مطلقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۸ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۸۵). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ص۲۰۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۲۴۵) ددی څخه مخکی داعبارت دی: وکره تربع ۞ وانفراد الامام علی الدکان لنهی وقدر الارتفاع بذراع ولا باس بما دونه ۞ وکره عکسه فی الاصح وهذا کله عند عدم العذر ۞ فلو قاموا علی الرفوف والامام علی الارض او فی المحراب لضیق المکان لم یکره کما لوکان معه بعض القوم ایضاً. ط.س. ج۱ ص ۲۴۲.

(۳). ویمنع من الاقتداء صف النساء ۞ وطریق تجری فیه عجلة ۞ اونهر تجری فیه السفن او خلاء فی الصحراء لیسع صفین فاکثر الا اذا اتصلت الصفوف فیصح مطلقا (ایضًا ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۴). ظفیر

(۴). په امام پسی ددریدلو حق خو قانونًا دهغه چادی څوك چی مخکی راسی ځکه چی دامام په وسط کی دلرلو حکم دی قال ﷺ توسطوا الامام وسدوا الخلل ومتی استوی جانباه یقوم عن یمین الامام ان امکنه، اوبیا چی صف کله پوره سی نوبل صف به هم دامام دمخامخ څخه شروع کیږی، ولولم یجد عالما یقف خلف الصف بحذاء الامام للضرورة ، لیکن که چیری اهل علمو ته نور خلګ ترجیح ورکړی اوپرخپل ځای یې په امام پسی ودروی نو دافعل هم درست بلکی مطلوب دی، وان سبق احد الی الصف الاول فدخل رجل اکبر سنا اواهل علم ینبغی ان یتاخر ویقدمه تعظیما له اهـ. داعبارت اودنور تفصیل دپاره وګوری (ردالمحتار باب الامامة مطلب فی جواز الایثار بالقرب ص ۵۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۹). ظفیر

بلې پښې دبجلکې سره يوځای کول مراد دی اوکه په محاذاتو کې لرل، غرض داچې دالصاق کعبين څه مطلب دی اوڅه مراد دی؟

جواب: په شامی باب صفة الصلوٰة کې داعبارت هم موجود دی دکم څخه چې مطلب دالصاق کعبين حاصلیږی: وينبغی ان يكون بينهما مقدار اربع اصابع اليد لانه اقرب الى الخشوع هكذا روى عن ابى نصر الدبوسى انه كان يفعله كذا فى الكبرٰى وماروى انهم الصقوا الكعاب بالكعاب اريد به الجماعة اى قال كل واحد بجانب الاخر كذا فى فتاوٰى سمرقند. (۱) الخ، نوکيدی سی چې مراد دالصاق کعبين څخه په محاذات کې لرل ديوی بجلکې دبلې سره وی څنگه چې الصاق کعب بالكعب دمقتديانو په باره کې په آثارِ صحابهؤ کې وارد دی. فقط

که دامام سره يوسړی وی اوبيا بل راسی، نوڅه وکړی؟ سوال: (۱۲۰۲) که چيری دامام سره صرف يومقتدی لمونځ کوی اويوبل راسی، يا دجمعې پوره صف ډك سی اويو لمونځ گذار وروسته راسی نو هغه ته دمخکنې صف څخه يو مقتدی راکشول ضروری دی اوکه صرف جائزدی؟

جواب: که چيری دامام سره يومقتدی وی بيا بل راسی نوښهٔ دادی چې مخکې مقتدی را وروسته سی اودواړه په امام پسې ودريږی. اوپه دی کې يې داشرط ليکلی دی، چې که چيری ددغه مقتدی دلمونځ فاسد کيدلو انديښنه نه وی نوهغه دی راوروسته کړی کنې نه دی راوروسته کوی. ددی څخه معلومه سوه چې درا وروسته کولو ضرورت هغه وخت دی چې دامعلومه وی چې هغه به راوروسته سی. اوهغه ته دامسئله معلومه وی. همدغه رکم دصف څخه وروسته ديوازی دريدلو حکم دی، که چيری دصف څخه يو سړی دده په راوروسته کولو سره بې تکليفه راوروسته سی نوداسی دی وکړی کنې يوازی دی ودريږی څنگه چې په شامی کې ددی تفصيل مذکوردی فليراجع. والذى يظهر انه ينبغى للمقتدى التاخر اذا جاء ثالث فان تاخر والا جذبه الثالث ان لم يخش افساد صلوته فان اقتدى عن يسار الامام يشير اليهما بالتأخير وهو اولى من تقدمه لانه متبوع (الى) وهٰذا كله عند الامكان والا تعين الممكن (۲) الخ. وفى الدر المختار. ولو صلى على رفوف المسجدان وجد فى صحنه مكانًا كره كقيامه فى صف خلف صفٍ فيه فرجَةٌ. الخ. ددر

(۱). ردالمحتار باب صفة الصلوة بحث قيام ص ۴۱۴ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۴۴. ظفير

(۲). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸، داچې وی ويل هٰذا كله عند الامكان والا تعين الممكن، ددی دامطلب دی چې که چيری دمقتدی وروسته تراتللو ځای وی بيا خودی مقتدی را وروسته سی اوکه چيری دوروسته کيدو ځای نه وی نوبيا امام مخکې بيول پکاردی. اوکه چيری ددی هم گنجائش نه وی نو بل مقتدی دی دامام چپه طرف ته ودريږی، لرڅه راوروسته، لکه څنگه چې مخکې مقتدی ولاړدی. والله اعلم. ظ

مختار (۱) دعبارت څخه داواضحه ده چی دیومقتدی دصف څخه وروسته یوازی دریدل هغه وخت مکروه دی چی په مخکنی صف کی ځای وی. ددی مفهوم دادی چی که چیری مخکنی صف ډك وی نو وروسته یوازی دریدی سی. ها! او ښه دادی چی دصف څخه یو سړی وروسته ولاړ سی. اوکه چیری داراتلونکی سړی یوسړی دمخکی څخه راکش کړی نوداهم جائزدی، ددی سره لمونځ نه فاسدیږی. فی الشامی: لوجذبه آخر فتأخر الاصح لا تفسد صلوته (۲). الخ

دمجبوریٔ په وجه په لاندی مدرسه کی اقتداء درسته ده اوکه نه؟ سوال: (۱۲۰۷) په جامع مسجد کی امام دلمونځ ورکولو دپاره ودریدی اوټول جومات دلمانځه ګذارو څخه ډك سو اویو صف دباندی پرفرش باندی هم جوړسو. باران شروع سو. وروسته چی کم کسان پاته سوه هغوی دباران په وجه جومات پریښووی اوپه مدرسه کی ودریدل کمه چی دجومات ترفرش لاندی واقع ده، ګویادنورو مقتدیانوڅخه دهغوی فاصله راغله، دهغوی لمونځ صحیح سو اوکه نه؟ دداسی مجبوری په حالت کی به داعذر قابل دسماعت وی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دارروایت دی چی ډیر لوی جومات کم چی دصحرا حکم لری که چیری په هغه کی دیوصف یازیاته فاصله راسی نو دوروستنیو لمونځ ګذارو لمونځ به نه کیږی. لیکن شامی نقل کړی دی چی داحکم دلوی جومات دی. دمعمولی جامع مسجد داحکم نه دی په هغه کی به په ذکرسوی حالت کی دهغه خلګو لمونځ صحیح سی چاچی په ذکرسوی مدرسه کی لمونځ کړی دی اوډیر روایتونه یی داسی نقل فرمایلی دی دکمو څخه چی جواز معلومیږی. لهٰذا دداسی مجبوری په حالت کی به په همدغه روایتونو باندی عمل کول کیږی اودلمانځه دصحت حکم به کول کیږی البته بی ضرورته دی داسی ونه سی اوپه دی کی دی احتیاط وسی. فقط

آیا دمحراب دمخ څخه لیری جمع کول مکروه ده: سوال: (۱۲۰۸) دجومات پربهرنی فرش باندی چی کم ځای غواړی فرض جمع دی اداء کړی.مثلاً دلوی جومات پرفرش لوړ دګرمی په موسم کی دسایی طرفته اوپه ژمی کی په لمر کی. یوصاحب داوایی چی دجومات پر صحن اوفرش باندی محراب ته مخامخ فرض جمعه اداء کول پکاردی. دمحراب دمحاذ څخه خلاف دفرضو جماعت اداء کول صحیح نه دی.

جواب: په شامی کی دی: السنة ان یقوم فی المحراب لیعتدل الطرفان ولو قام فی احد جانب الصف

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰. ظفیر
(۲). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۰ . ظفیر

يكره ولو كان المسجد الصيفى بجنب الشتوى واملاء المسجد يقوم الامام فى جانب الحائط ليستوى القوم من جانبيه والاصح ما روى عن ابى حنيفة رحمه الله انه قال اكره ان يقوم بين الساريتين اوفى زاوية اوفى ناحية المسجد او الى سارية لانه خلاف عمل الامة. (۱) الخ ددى ټولو عبارتونو څخه معلوميږي چي دامام دپاره سنت په محراب كي اودقوم په مينځ كي دريدل دى. لهٰذا كه چيري دبهر صحن په فرش باندي ودريږي نو هم دي محراب ته مخامخ ودريږي. نور نولمونځ خوپه هرډول كيږي ليكن سنت (طريقه) همدغه ده، كمه چي ذكر سوه.

په جمعه كي دي صفونه دامام دواړو طرفونو ته برابروي: **سوال:** (۱۲۰۹) مشهوره ده چي په جمعه كي دي مقتديان زيات تره راسته طرفته ودريږي. ددى څه ثبوت سته اوكه دواړه طرف ته دي برابر ودريږي.

چي صحن يوطرف ته زيات وي نودصحن دمينځ لحاظ ساتل پكاردي: **سوال:** (۱۲۱۰\۲) كه چرته دجومات صحن لس دولس لاسه يوطرف ته زيات سوى وي، نواوس امام ته دصحن په اعتبار سره په منځ كي دريدل پكاردى اوكه دجومات دمحراب لحاظ ساتل پكاردى.

كه دباندي جمعه كيږي نو آيا دننه بندول ضروري دي: **سوال:** (۱۲۱۱\۳) په پنجاب كي په ډيرو ځايونو كي ليدل سوى دي چي كه چيري جمعه په صحن كي كيږي، نودننه دجومات دروازي په لازمي طور سره بندوي. شرعًا ددى هم څه ثبوت سته اوكه نه؟

جواب: (۱) دواړه طرفته مقتديان برابر اوسيدل پكاردى. (۲)

(۲) چي دباندي ولاړوي نودصحن دمينځ خيال دي وسى (۳).

(۳) ددننه دروازو بندول په دغه وخت كي ضروري نه دي.

دجومات څخه اخواته ددرختي په سايه كي اقتداء درسته ده اوكه نه؟ **سوال:** (۱۲۱۲) په يو كلي كي په جومات كي په سايه كي لمونځ كيږي، اوچونكي پرفرش باندي لمروى لهٰذا

---

(۱). اوخلاء اى فضاء فى الصحراء اوفى مسجد كبير جدا كمسجد القدس يسع صفين فاكثر (در مختار) والمسجد وان كبر لايمنع الفاصل الا فى الجامع القديم بخوارزم فانه ربعه كان على اربعة الاف اسطوانة وجامع القدس الشريف (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۵). ظفير

(۲). ردالمحتار مطلب فى كراهة قيام الامام فى غير المحراب ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸ . ظفير

(۳).۳. ويقف وسطا (درمختار) وفى مبسوط بكر: السنة ان يقوم فى المحراب ليعتدل الطرفان ولو قام فى احد جانبى الصف يكره ولو كان المسجد الصيفى بجنب الشتوى وامتلأ المسجد يقوم الإمام فى جانب الحائط ليستوى القوم من جانبيه ؒ قال ﷺ توسطوا الامام ؒ فى موضع اخر السنة ان يقوم الامام ازاء وسط الصف (رد المحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸) وكيفيته ان يقف احدهما بحذائه والاخر بيمينه اذاكان الزائد اثنين ولوجاء ثالث وقف عن يسار الاول والرابع عن يمين الثانى والخامس عن يسار الثالث وهكذا اهـ (ايضًا ص ۵۳۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸). ظفير

څه خلګ ټول فرش پريږدي اودخوارلس پنځلس ګزه پرفاصله باندی ددرختو په سايو کی په لمونځ کی شريکيږی اونيت تړی. په دی صورة کی دهغوی لمونځ کيږی اوکه نه؟

جواب: دهغوی لمونځ صحيح (۱) دی. فقط (خوداسی کول نه دی پکار صفونه دی متصل وی. خودلمر څخه دځان ساتلو انتظام پکاردی دپاره ددی چی لمونځ ګذاروته تکليف نه وی. ظفير)

چی دکم امام حال نه وی دهغه اقتداء درسته ده اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۱۳) په خلاصة الفتاوٰی اول جلد ص **۱۵۳** کی دی: ولو اقتدٰی بالامام ولا يدری انه مقيم اومسافر لا يصح اقتداءه. دامسئله معمول بها ده اوکه څنګه؟

جواب: په درمختار کی يی دخانيه وغيره څخه چی څه نقل کړی دی هغه هم ددی روايت دخلاصی موافق دی ليکن دهغه جواب يی داورکړی دی چی دامام حال په ټول لمونځ کی يو وخت معلوميدل پکاردی، په ابتداء کی معلوميدل شرط نه دی. په همدی وجه دامام داخبرداری کول چی زه مسافريم مستحب يی ليکلی دی. ددرمختار عبارت دادی: وندب للامام ان يقول بعد التسليمتين فی الاصح اتموا صلوتکم فانی مسافر، هذا يخالف الخانية وغيره ، ان العلم باحوال الامام شرط لکن فی حاشية الهداية للهندی الشرط العلم بحاله فی الجملة لا فی حال الابتداء (۲) الخ

په مخکنی صف کی دبی ږيری هلکانو شرکت: **سوال**: (۱۲۱۴) په مخکنی صف کی دبی ږيری هلکانو دريدل څنګه دی؟

جواب: نابالغه هلکانو ته دسړيو څخه وروسته دريدل پکاردی. ليکن که چيری يوهلك وی نوهغه ته دسړيو په صف کی دريدل درست دی. په درمختار کی دی: ثم الصبيان ظاهره تعددهم لو واحدا دخل الصف وهٰکذا فی الشامی (۳).

ښځه ياکه محرمه ښځه په برابر کی دريدی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۱۵) کمی ښځی چی دمحرماتو څخه دی، هغوی ياخپله بی بی چی په برابر کی اقتداء وکړی نولمونځ مکروه کيږی اوکه نه؟

---

(۱). مراد دادی چی دا درختی دکمو په سايو کی چی لمونځ اقتداءً دپنځلس ګزه فاصله په پريښوولو سره کوی. که چيری په جومات کی يا دجومات په فناء (يعنی حدودو) کی وی نولمونځ درست دی. فناء المسجد کالمسجد فيصح الاقتداء وان لم يتصل الصفوف (الاشباه والنظائر فن ثانی، کتاب الصلاة ص ۱۹۷). ظفير

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة المسافر ص ۷۴۰ ، ط.س. ج۲ ص ۲۹، په عبارت نقل کولو کی تقديم اوتاخيردی او دابی دمطلب واضح کولو دپاره کړی دی. ظفير.

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۳۴** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۷۱** . ظفير

جواب: ښځی که څه هم دمحرماتو څخه وی، په جمعه کی دی هغوی هم برابری نه دریږی ددی سره دسړی لمونځ فاسدیږی (۱).

چی امام په دالان کی وی اومقتدیان په صحن کی وی نوآیا دامکروه دی؟ سوال: (۱۲ ۱۲)

زید وایی چی که چیری امام دمخکښی چت په درونو کی دمحراب په محاذاتو کی ولاړ وی اومقتدیان په صحن کی ولاړ وی نولمونځ به مکروه وی ولی چی امام اومامومتو ته په مقام واحد کی کیدل پکاردی اودلته دشتوی اوصیفی فرق دی (چی یوځای دژمی اوبل ځای ددوبی دپاره دی)، بکر وایی چی بې له کراهته درست دی ولی چی صحن دمسجد عین مسجد دی. شتوی اوصیفی کَبُقْعَةٍ واحده دی، اوددرمختار دعبارت مفهوم هم همدا دی. ولم یختلف المکان حقیقة کمسجد. اودعالمګیری څخه هم همدا مفهوم کیږی، وانما قام علی الجدار الذی بین داره وبین المسجد ولایشتبه حال الامام صح الاقتداء ایضً جاز الاقتداء لمن فی بیته بامام المسجد ، نوشرعًا څه حکم دی؟

جواب: په شامی جلد اول باب الامامة کی دی والاصح ماروی عن ابی حنیفة رحمه الله انه قال اکره ان یقوم بین الساریتین (۲) الخ. نوکه چیری امام په در کی په داشان ولاړوی چی قدمونه یی هم دننه وی اومقتدیان په فرش باندی وی نودا مکروه دی څنګه چی امام ته په محراب کی دننه دریدل مکروه دی، اوکه چیری قدمونه یی بهر په فرش باندی وی نو کراهت مرتفع دی. اودا صحیح ده چی مسجد سقف اوغیر سقف یعنی فرش دمسجد دا ټول مسجد دی. اوامام که چیری محراب ته محاذی په فرش غیر مسقف کی ولاړوی او مقتدیان هم په فرش باندی ولاړوی نوپه دی کی څه کراهت نسته کما هو معمول الائمة فی الصیف. نوامام ته په بیرونی درکی په دریدلو کی کراهت هغه وخت دی چی امام بالکل په درکی دننه وی نوپه دی حالت کی به هغه در په حکم دمحراب کی وی اوپه محراب کی دننه امام ته دریدل مکروه دی، که څه هم اشتباه نه وی، ولی چی په دی کی تشبیه داهل کتابو سره ده اودا دکراهت دوهم علت دی اوددی علت په بنا باندی دامام داشتباه اوعدم اشتباه حال مساوی دی (۳).

---

(۱). واذا حاذته ولو بعضو واحد امرأة ولو أمة مشتهاة الخ ولا حائل بینهما الخ فی صلاة مطلقة مشترکة الخ تحریمة واداء فسدت صلاته لو مکلفا والا لا، (درمختار) قوله ولو أمة الخ ولعلها ولو أمه وعبارته فی الخزائن ولو محرمة اوزوجته (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲ - ۵۷۳). ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الامامة مطلب فی کراهة الامام فی غیر المحراب ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۴۵ . ظفیر

(۳). وکره الخ قیام الامام فی المحراب لاسجوده فیه وقدماه خارجه لان العبرة للقدم مطلقًا وان لم یشتبه حال الامام ان علل بالتشبه وان بالاشتباه فلا اشتباه فی نفی الکراهة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ص .... ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۶۴۵) ظفیر.

دلمانځه په آخره کی یوسړی راغی اوپه صف کی ځای نسته نو هغه څه وکړی؟ سوال:

(۱۲۱۷) څه فرمایی ددین عالمان په دی مسئله کی چی زید اودس وکی اوپه جمعه کی دشریکیدلو دپاره ولاړی. په صف کی ځای باقی نسته اونژدی ده چی امام دواړه طرفته سلام وګرزوی. زید په دی حالت کی څه وکړی؟

جواب: وروسته دی ودریږی اوپه جمعه کی دی شریك سی (۱).

چی مقتدیان دامام صرف یوطرفته ودریږی، اوبل طرف ته ونه دریږی، نوڅه حکم دی؟ سوال:

(۱۲۱۸) که چیری مقتدیان دامام راسته طرفته ودریږی اوچپه طرف ته هیڅوك نه وی. علیٰ هٰذا القیاس هم دغه چپه طرف ته (اوسی) نوپه لمانځه کی خوبه قصور نه راځی؟

جواب: امام دی دصف په منځ کی ودریږی، داسنت دی. که چیری مقتدیان ټول یوطرف ته دریدل نولمونځ صحیح سو، خوسره دکراهته. السنة ان یقوم فی المحراب لیعدل الطرفان ولو قام فی احد جانبی الصف یکره کذا فی الشامی (۲).

دجومات دامام اقتداء په داسی ځای کی چی دهغه ترمینځه لاره حائله وی درسته نه ده:

سوال: (۱۲۱۹) دجومات اودهغه کور کم چی دجومات دپاره وقف دی دهغه ترمینځه دمحلی دسړیو دتګ راتګ دپاره کوڅه واقع ده، نوپه مذکوره کورکی لمونځ کیدی سی؟ یعنی چی په جمعی سره لمونځ کیږی نوکم لمونځ ګذار چی په دغه کور کی دی دهغوی اقتداء دجومات دامام سره درسته ده اوکه نه؟

جواب: ددغه کور اوجومات ترمینځ که چیری لاره حائله وی اوپه لاره کی صف قائم نه وی نواقتداء درسته نه ده. لاختلاف المکان کذا فی الشامی (۳). فقط

دستنو ترمینځه امام ته دریدل څنګه دی: **سوال**: (۱۲۲۰) که چیری امام دجومات دستنو تر مینځ ودریږی اولمونځ ورکوی نوآیا په وجه دمشابهت دقیام فی المحراب په لمونځ کی به کراهت وی اوکه نه؟

جواب: په شامی کی دی. فی معراج الدرایة من باب الامام الاصح ما روی عن ابی حنیفة انه قال اکره للامام ان یقوم بین الساریتین . الخ ، ددی څخه معلومه سوه چی ددوو ستنو

---

(۱). وان لم یجیئ حتی رکع الامام یختار اعلم الناس بهذه المسئلة فیجذبه ویقفان خلفه ولولم یجد عالماً یقف خلف الصف بحذاء الامام للضرورة، ولو وقف منفردا بغیر عذر تصح صلوته عندنا . شامی ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۸. ظفیر

(۲). ردالمحتار المحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۶۸. ظفیر

(۳). ولواقتدی من سطح داره المتصلة بالمسجد لم یجز لاختلاف المکان. ددی څخه مخکی دی : ویمنع من الاقتداء الخ فی طریق تجری فیه عجلة الخ اونهر تجری فیه السفن الخ اوخلاء فی الصحراء الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۲) ظفیر .

تر مینځه دریدل مکروه دی. ([1]) فقط

پردې ښځه دبورقې سره اقتداء کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۲۱\۱) دخپلې بی بی سره په جمعی سره لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

(۱۲۲۲\۲) پردی ښځه دبورقی سره اقتداء کولی سی، اوکه نه؟

جواب: (۱) درست دی. فی الدر المختار اما اذا کان معهن واحد ممن ذکر اوامهن فی المسجد لایکره ([2]). لیکن هغه دی وروسته ودروی دځان سره برابره دی نه دروی ([3]).

(۲) که چیری یوځوك محرمه ښځه هم وی لکه خپله ښځه یاخور وغیره. نوغیر (یعنی پردی) ښځه هم دبورقی سره اقتداء کولی سی ([4]). فقط

صفونه سیده کول څنګه دی؟ سوال: (۱۲۲۳)صفونه سیده کول څنګه دی؟

جواب: صفونه سیده کول سنت دی، ددی ډیر تاکید راغلی دی. ([5]) فقط

مقتدی به رکوع اوسجده دامام سره سمه کوی اوکه په توقف سره؟ سوال: (۱۲۲۴) مقتدی به دامام سره (سم) خپل هیئت په رکوع اوسجدی وغیره کی بدلوی اوکه دامام څخه وروسته. یعنی کله چی امام دقومی څخه سجدی ته ولاړی نومقتدی به هم دامام سره سجده کوی اوکه وروسته. یعنی مقتدی ته انتظار کول پکاردی اوکه نه؟

جواب: مقتدی ته توقف کول پکاردی، دپاره ددی چی دمقتدی تکبیر وغیره دامام دتکبیر وغیره څخه مخکی ونسی ([6]). کما هو مشاهد. فقط

دامام سره په یوځای دریدلو سره لمونځ کیری اوکه نه؟ سوال: (۱۲۲۵) یوسړی دصف څخه اخواته سو اودامام سره برابر ودریدی، په دی صورة کی لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: لمونځ دهغه سړی هم کیږی ځوك چی دامام سره برابر ولاړوی، په دی شرط چی دامام څخه مخکی نسی قدمونه یې لږ وروسته وی. لیکن بی ضرورته داسی کول ښه نه

([1]). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۸ . ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲ . ظفیر

([3]). المرأة اذا صلت مع زوجها فی البیت ان کان قدمها بحذاء قدم الزوج لا تجوز صلاتهما بالجماعة وان کان قدماها خلف قدم الزوج الا انها طویلة تقع رأس المرأة فی السجود قبل رأس الزوج جازت صلاتهما لان العبرة للقدم (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۵ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۷۳) ظفیر.

([4]). کما تکره امامة الرجل لهن فی بیت لیس معهم رجل غیره ولامحرم منه کاخته اوزوجته اوامته، اما اذا کان معهن واحد ممن ذکر اوامهن فی المسجد لایکره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۲۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۲۲). ظفیر

([5]). قال رسول الله ﷺ سووا صفوفکم فان تسویة الصفوف من اقامة الصلوة وفی روایته عباد الله لتسون صفوفکم اولیخالفن الله بین وجوهکم (مشکوٰة باب تسویة الصفوف فصل اول ص ۹۸). ظفیر

([6]). قال النبی ﷺ، انما جعل الامام لیؤتم به (مسلم). ظفیر.

دی چی دصف څخه ووزی اویوازی دامام سره برابر ودریږی. (۱) فقط

اقتداء په بل کور کی درسته ده اوکه نه؟ **سوال:** (۱۲۲۶) دجامع مسجد په احاطه کی دوکانونه دی اوترهغه لوړ مدرسه ده. مدرسه دجومات دغولی سره متصل ده اویوه کړکۍ یې دجومات په محاذاتو کی ده. په دی صورة کی دباران اوګرمی په وجه چی دمسجد غولی پرېږدی، په مدرسه کی دلمونځ کوونکو اقتداء صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په شامی کی یی ددی مسئلی په تحقیق کی دطویل کلام اواختلافاتو نقل کولو څخه وروسته لیکلی دی: ویؤیده ما فی البدائع حیث قال لو کان علی سطح بجنب المسجد متصل به لیس بینهما طریق فاقتدی به صح اقتداءه عندنا لانه اذا کان متصلاً به صار تبعًا لسطح المسجد (۲). الخ ددی روایت څخه واضحه سوه چی په صورة مسئوله کی په مدرسه مذکوره کی دلمانځه کونکو اقتداء صحیح ده. فقط

دلمانځه ورکولو څخه وروسته امام ته معلومه سوه چی دغسل ضرورت وو، اوس څه وکړی؟

سوال: (۱۲۲۷) یوامام ته دسهار لمونځ ورکولو څخه وروسته معلومه سوه چی هغه ته دغسل ضرورت وو. اوس وخت وتلی وو نواوس څه کول پکاردی؟

جواب: دغسل کولو څخه وروسته دی پخپله هم لمونځ وکړی اوپه خپلو مقتدیانوکی چی څوك خبر کولی سی خبر دی کړی چی هغوی هم دلمانځه اعاده وکړی. (۳)

فصل خامس

د امام پیروی او نور مسائل

مقتدیان ددرود اودعاء پوره کولو څخه وروسته سلام وګرزوی اوکه دامام سره فوراً: **سوال:** (۱۲۲۸) په آخری قعده کی دامام دسلام سره سمدستی مقتدیان سلام وګرزوی اوکه مقتدیان دخپل باقی مانده درود اودعاء پوره کولو څخه وروسته سلام وګرزوی؟

جواب: یوځای دی ورسره وګرزوی، البته که دیو مقتدی تشهد یعنی التحیات څه باقی پاته سی نودهغه پوره کولوڅخه وروسته دی سلام وګرزوی. په شامی کی دی: والحاصل

(۱). ولوقام واحد بجنب الامام وخلفه صف کره اجماعا (درمختار) ای للمؤتم لیس علی الامام منها شیئ ویتخلص من الکراهة بالقهقری الی خلف لم یکن ضیقا علی ظاهر الخ ردالمحتار باب الامامة ص ۵۳۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۵۷۲ . ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الامامة ص ۵۴۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۸۲ . ظفیر

(۳). اذا اظهر حدث امامه وکذاکل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهد محدث اوجنب الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامت قبیل المواضع التی تفسد صلاة الامام دون المؤتم ص ۵۵۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۱). ظفیر

ان متابعة الامام فی الفرائض والواجبات من غیر تاخیر واجبة فان عارضها واجب لا ینبغی ان یفوت. بل یاتی به ثم یتابعه کما لوقام الامام قبل ان یتم المقتدی التشهد فانه یتمه ثم یقوم الخ بخلاف ما اذا عارضها (۱) سنة الخ.

دامام دخپل مخالف دپاره بددعاء کول څنګه دي؟ سوال: (۱۲۲۹) دیوجومات امام دفرض لمونځ څخه وروسته په دعاء کی دخپلو ذاتی مقدماتو مختلف فیه پربناء باندی فریق ثانی ته بده دعاء (یعنی ښرا) کوی اوپه مقتدیانو باندی آمین وایی. دافعل دهغه څنګه دی اوداسړی اولٰی بالامامت دی اوکه نه؟

جواب: که چیری ماثوره دعاګانی داقسم وایی چی په هغه کی بالاجمال ددښمنانو دپاره بددعاء وی نوپه دی کی څه حرج نسته اوپه خاص نوم اخستلوسره علی الاعلان اوبالجهر دعاء کول ښه نه دی. مقتدیانوته پکاردی چی پرهغه باندی آمین نه وایی. اوداسی سړی دچا څخه چی خلګ نفرت کوی. احق بالامامت نه دی. بلکی دفقهی په کتابونو کی دی چی که چیری دیوامام دبدو افعالو په وجهی سره لمونځ ګذار دهغه دامامت څخه کراهت کوی نوهغه ته امام کیدل مکروه دی اوپه هغه پسی لمونځ مکروه دی. لحدیث ابی داود: لا یقبل الله صلٰوة من تقدم قومًا وهم له کارهون الحدیث. کذا فی الدر المختار. (۲) فقط

په یوجومات کی دوه امامان: **سوال**: (۱۲۳۰) دجګړی په حالت کی په یوجومات کی ددوو امامانو کیدل جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیری دوه امامان ددی دپاره وی چی یوامام څه خلګوته لمونځ ورکړی اوبیابل امام همدغه لمونځ نورو خلګوته ورکړی نودا مکروه دی (۳). فقط

(اوکه چیری دامنشاء وی چی دواړه امامان به وساتل سی کله به یولمونځ ورکوی اوکله دضرورت په وجه بل، نو ددی ګنجائش سته. ظفیر)

په ناپاکو جاموکی لمونځ: **سوال**: (۱۲۳۱) زید خپله ناپاکه جامه یوسړی ته دپاکولو دپاره ورکړه، کله چی هغه پاکه کړه اورایی وړه نوزید هغه واغوسته او دماخستن لمونځ یی ورکی دفارغ کیدلو څخه وروسته یی وکتل نوجامه هم هغه شان ناپاکه وه لیکن زید دشرم په وجه هیڅ ونه ویل. یوڅوکاله وروسته زیدته فکر ورغی چی دفلانی وخت لمونځ باطل سوی وو اوپه هغه کی مقتدیان هم ډیر وه، نواوس زید ته څه کول پکار دی؟

---

(۱). ردالمحتار باب صفة الصلاة مطلب مهم فی تحقیق المتابعة للامام ص ۴۳۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۹. ظ

(۲). الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامت ص ۵۲۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۵۹ . ظفیر

(۳). ولوصلی بعض اهل المسجد باقامة وجماعة ثم دخل المؤذن والامام وبقیة الجماعة فالجماعة المستحبة لهم والکراهة للاولی (عالمگیری الباب الثانی فی الاذان ص ۵۱ ج۱ ، ط. ماجدیه. ج۱ ص ۵۴). ظفیر

جواب: که چیری هغه پلیتی دپری مینځلو څخه پاته سوی وه اوپه مقدار کی مانع عن الصلوة وه نودهغه لمونځ اعاده ضروری (۱) ده. اوکم مقتدیان چی ورته یادیږی هغوی ته اطلاع ورکول پکاردی. فقط

دناپاکی په حالت کی امامت او دهغه متعلق احکام: **سوال**: (۱۲۳۲) په یوسړی باندی غسل واجب وو هغه امام جوړسو اولمونځ یی ورکی، دڅه وخت تیریدلو څخه وروسته ورته یاد سو. امام دلمانځه قضاء راوګرځوله، اومقتدیانو ته یی اطلاع ورنه کړه. نودمقتدیانو لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

جواب: قال فی الدر المختار: کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث اوجنبٌ اوفاقدُ شرطٍ اورکنٍ وهل علیهم اعادتها ان عدلا نعم (۲) الخ. نومعلومه سوه چی امام ته په داسی حالت کی لازم دی چی مقتدیانو ته اطلاع وکړی اوداطلاع څخه وروسته هغوی ته ددغه لمونځ راګرځول پکاردی. که چیری اطلاع ونسوه نومقتدیان معذوره دی په هغوی باندی هیڅ مؤاخذه نسته. فقط

دتشهدپه باره کی دامام متابعت: **سوال**: (۱۲۳۳) که چیری امام په مخکنی قعده کی دمقتدی فارغ کیدلو څخه مخکی دتشهد څخه ولاړسی نومقتدی ته دتشهد پوره کولو څخه وروسته دریدل پکاردی. او دوترو په قنوت کی که چیری امام دقنوت پوره کیدلو څخه مخکی رکوع ته ولاړسی نودهغه متابعت کول وی. په دی دواړو صورتونو کی وجه دفرق څه ده؟

جواب: وجه دفرق داده چی دعاءِ قنوت چی هرڅومره هم وسوه نوواجب اداء سو اوتشهد ټول واجب دی. اودا فرق علامه شامیؒ دمتابعت په تحقیق اوباب الوتر کی بیان کړی هم دی. رکع الامام قبل فراغ المقتدی من القنوت قطعه وتابعه. درمختار. قوله قطعه وتابعه لان المراد بالقنوت هٰهنا الدعاء الصادق علی القلیل والکثیر واتٰی به کافٍ فی سقوط الواجب وتکمیله مندوب (۳) الخ. وفی بحث المتابعة فان عارضها واجب لا ینبغی ان یفوته بل یاتی به ثم یتابع کما لو قام الامام قبل ان یتم المقتدی التشهد فانه یتمه ثم

---

(۱). النجاسة انکانت غلیظة وهی اکثر من قدر الدرهم فغسلها فریضه والصلوة فیها باطلة (عالمگیری کشوری ص ۵۲ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۴۲) کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث اوجنب اوفاقد شرط اورکن وهل علیهم اعادتها ان عدلا نعم والا ندبت (الدر المختار مجتبایی. باب الامامة ص ۸۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۱). ظفیر

(۲). الدر المختار باب الامامة ص ۸۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۱. ظفیر

(۳). ردالمحتار باب الوتر ص ۲۲۷ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۱۰ . ظفیر

يقوم (الی ان قال) فكان تاخير احد الواجبين مع الاتيان بهما اولی من ترك احدهما بالكلية (١) الخ. فقط

كم امام چي دآخري قعدي پريښوولو په وجهي سره دلمانځه اعاده وكړه، نوپه هغه كي ټول شريكيدي سي: **سوال:** (۱۲۳۴) امام آخري قاعده ونه كړه اودپنځه ركعاته كولو څخه وروسته يی سلام وگرزوی. ددی وجه لمونځ راگرځوی نواوس چي په مخكي لمونځ كي ځوك شريك نه وو هغه په دی كي شريكيدی سی اوكه نه؟

آخري قعده يی هم وكړه خو دواجب ترک كولو په وجهي سره اعاده كوی نوپه دي كي شركت دعامو خلكو دپاره درست دي اوكه نه؟ **سوال:** (۱۲۳۵ \ ۲۱) كه چيری امام دآخری قعدی څخه وروسته پنځم ركعات وكی اودسجده سهوی څخه بغير يی سلام وگرزوی. او لمونځ بيا راگرزوی نواوس داسی سړی شريكيدی سی كم چي مخكي شريك نه وو؟

جواب: (۱) په دی صورة كي دهغه لمونځ كيږی ولی چي داخوظاهره ده چي دآخری قعدی په ترك كولو سره دهغه دجمعی فرض نه وو اداء سوی اوپر هغوی باندی دلمانځه اعاده ضروری ده. اوس په دغه اعاده كی كه چيری بل ځوك شريك سی نو دهغوی دفرضو په شان دده فرض به هم ادا سی. (٢)

(۲) په دی صورة كي به دهغه لمونځ صحيح نه وی، ولی چي په دی صورة كي ددغه جماعت فرض كه څه هم ناقص دی. خوپه مخكی وار اداء سول. لهٰذا اوس به دا دوهم لمونځ نفل وی، دمفترض اقتداء په نفل كونكی پسی صحيح نه ده. (٣) فقط

دوفات سوی امام ديتيمانو بچيانو امداد: **سوال:** (۱۲۳۶) يو امام دمحلی په جومات كي دمحلی والاوو په اتفاق سره مقرر سو تړديری مودی پوری يی دمحلی امامت كوی. په خدايی تقدير سره دامامت په حالت كي وفات سو. اويوځو يتيمان بچي ځيني پاته سوه. اوس چي كمه وظيفه به دهغوی پلار ته دبيت المال څخه يادمحلی دخلگو دطرف څخه وركول كيدله شرعًا دهغه وظيفی حقدار دغه يتيمان بچي دی اوكه نه ؟

جواب: اقول وبالله التوفيق. دبيت المال همداحكم دی كم چي مذكورسوچي ددغه ماشومانو

(١). ردالمحتار باب صفة الصلوة ص ۴۳۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۰. ظفير

(٢). ولو سها عن القعود الاول الخ مالم يقيد ها بسجدة الخ وان قيدها بسجدة عامدًا اوناسيًا اوساهيًا اومخطأً تحول فرضه نفلاً برفعه الجبهة عند محمد وبه يفتٰی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب سجود السهو ص ۲۹۸ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۸۳). ظفير

(٣). ولها واجبات لاتفسد بتركها وتعاد وجوبًا الخ وكذا كل صلاة اديت مع كراهةِ التحريم تجب اعادتها والمختار انه جابر للاول لان الفرض لايتكرر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلاة مطلب فی واجبات الصلاة ص ۴۲۴ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۴۵۲). ظفير

امداد دی دهغوی دپلار دوظیفی څخه وسی اودمحلی خلګو به چی دخپلی چندی څخه کم څه امداد مرحوم ته ورکوی پرهغوی باندی هم دیتیمانو امداد لازم دی چی دوس مطابق دهغوی امداد وکړی. که څه هم دوی ته به دنوی امام ضرورت هم وی او غالبًا دهغه دتنخواه انتظام به هم کول وی. که چیری یوڅوك امام بی تنخواه پیدا نسی نوبیا هم دذکر سوو یتیمانو امداد دی هم پرخپل ځان باندی لازم وګڼی اودثواب کار دی وګڼی او أخروی ثواب دی حاصل کړی. (۱)

چی په لمانځه کی دامام اودس مات سو اوهغه چاته ونه ویل نوددغه لمونځ اعاده په هریوه باندی ضروری ده: **سوال:** (۱۲۳۷) که دامام اودس مات سواوپه دغه وخت کی هغه خلګو ته ونه ویل بلکی دلمونځ ګذارو دتللو څخه وروسته یی پخپله اعاده وکړه نو آیا دمقتدیانو دطرف څخه هم اعاده وسوه؟

جواب: ټول مقتدیان اوامام دی دهغه اعاده وکړی یوازی دامام په اعادی سره دمقتدیانو لمونځ نه صحیح کیږی. (۲)

که چیری دجماعت لمونځ په څه وجهی سره باطل سی نوصرف دامام اعاده به دټولو دطرف څخه کافی نه وی: **سوال:** (۱۲۳۸) امام دجمعی لمونځ ورکی، سهوًایی قرآئت غلط ووایه یابی اودسه وو یابی غسله وو په دی ټولو صورتونو کی دغلطی څخه دخبر کیدلو څخه وروسته ددغه لمونځ اعاده صرف دامام په ذمه ده اوکه دمقتدیانو په ذمه هم ده؟

جواب: په درمختار کی دی: واذا ظهر حدث امامه وکذا کل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها الخ کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث اوجنب. (۳) درمختار ددی عبارت څخه واضحه ده چی که چیری دامام لمونځ صحیح نه سو نو دمقتدیانو لمونځ هم نه کیږی. په ټولو باندی اعاده لازمه ده.

که مقتدی دامام څخه مخکی سلام وګرزوی نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۱۲۳۹) په تذکرة الرشید کی دی، چی که چیری مقتدی دامام څخه مخکی سلام وګرزوی اوفارغه سو نو دمقتدی لمونځ به فاسدسی. اودشامی، عالمګیری، بحر الرائق وغیره نه معلومیږی چی دمقتدی لمونځ به په دی صورة کی وسی خو سره د کراهته . دا مسئله دی مصرحه تحریر

---

(۱). قال رسول الله ﷺ من مسح رأس یتیم لم یمسحه الا لله کان له بکل شعرة یمر علیها یده حسنات ومن احسن الی یتیمة اویتیم عنده کنت انا وهو فی الجنة کهاتین وقرن بین اصبعیه رواه احمد (مشکوٰة باب الشفقة ص ۴۲۳). ظفیر

(۲). واذا ظهر حدیث امام وکل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۳۵۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۱). ظفیر

(۳). وګوری الدر المختار مجتبایی باب الامامة ص ۸۲ ج ۱، ط. س. ج۱ ص ۵۹۱. ظفیر

وفرمایل سی.

جواب: دامسئله کمه چی مو دتذکرة الرشید څخه نقل کړیده دافرع ده. دامام دمتابعت دوجوب. ولی چی دمتابعت معنٰی داده چی دامام سره دی ارکان او واجبات اداء کوی یا دی دهغه څخه وروسته اداء کوی. مخکی دی نه کوی یعنی تقدیم ممنوع دی څنګه چی په شامی کی یی دمتابعت په تحقیق کی نقل فرمایلی دی. نعم تکون المتابعة فرضاً بمعنی ان یاتی بالفرض معه امامه اوبعده کما لو رکع امامه فرکع معه مقارناً او معاقباً (الی ان قال) والحاصل ان المتابعة فی ثلثة انواع مقارنة لفعل الامام مثل ان یقارن احرامه لاحرامه ورکوعه لرکوعه وسلامه لسلامه ﷫ اوچونکی په دی کی دوه قوله دی چی مقتدی دامام داقتداء څخه کوم وخت خارجیږی. په درمختار کی یی مشهوره مذهب دا لیکلی دی چی امام کم وخت السلام ووایه نو اقتداء ختمه سی نو ددی قول موافق خوپه لفظ السلام کی تقدیم کول نه دی پکار، کنی لمونځ به فاسد سی. اودوهم قول دا دی چی په دوهم سلام سره اقتداء ختمه سی. نوددی قول موافق پوره السلام علیکم ورحمة الله، دامام سره یا وروسته کیدل پکاردی. که چیری مخکی یی ختم کړی نو د مقتدی لمونځ به ددی قول موافق فاسد سی. نوپه تذکرة الرشید کی به یی احتیاطًا دا قول اختیار فرمایلی وی. وتنقضی قدوة بالاول قبل علیکم علی المشهور عندنا وعلیه الشافعیة خلافًا للتکملة (درمختار) حیث صحح ان التحریمة انما تنقطع بالسلام الثانی (۱). شامی. اوکه چیری څه بل عبارت موپه مخکی وی نودهغه څخه موخبر کړی. فقط

دامام پر غیر حاضری باندی تنخواه پرې کول: **سوال**: (۱۲۴۰) دبمبئ دجامع مسجد امام صاحب په باره کی دجومات متولیانو داطریقه رائج لرلی ده چی دکم وخت په لمانځه کی هغه رانسی نوحساب ولګوی اودهغه وخت تنخواه ورڅخه کاټ کړی. آیا عند الشرع دا جائزدی؟

جواب: داسی کول جائزنه دی. اوداکار دعرف اوشرعی (دواړو) څخه خلاف (۲) دی.



(۱). ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب مهم فی تحقیق متابعة الامام ص ۴۳۹ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۷۰. ظفیر

(۲). وهل یاخذ ایام البطالة کعید ورمضان لم اره وینبغی الحاقه بباطلة القاضی واختلفوا فیها والاصح انه یاخذ لانها للاستراحة . اشباه من قاعدة العادة محکمة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الوقف ص **۵۲۵** ج۳ ، ط.س. ج۴ ص ۳۷۲) وفی القنیة من باب الامامة امام یترك الامامة لزیارة اقربائه فی الرساتیق اسبوعا او نحوه اولمصیبة اولاستراحة لاباس به ومثله عفو فی العادة والشرع (رد المحتار. کتاب الوقف مطلب فی الغیبة التی مستحق بها العزل عن الوظیفة وما لایستحق ص **۵۲۴** ج۳ ، ط.س. ج۴ ص ۴۲۰). ظفیر

شپږم فصل

دمدرک ، لاحق او مسبوق احکام

<u>مقتدیان په غلطی سره په دریم رکعات کښېنستل اوامام ولاړ وو لمونځ یی کوی</u>: سوال: (۱۲۴۱) زید نابینا دی اوخالد بینادی اودواړه په جماعت کی شامل سوه چی کله امام دریم رکعات وکی او ودریدی نو دادواړه پوه سوه چی څلورم رکعات دی اوپه قعده کی کښېنستل. کله چی امام دڅلورم رکعات رکوع وکړه نوهلته دوی پوه سوه چی زموږ څخه غلطی وسوه، هغه وخت ولاړیدل قیام یی وکی اورکوع یی وکړه او دامام سره په سجده کی شامل سوه، دامام سره په قیام او رکوع کی شامل نه سول، ددوی دپاره څه حکم دی؟

جواب: که چیری زید اوخالد (ځان ته) رکوع وکړه اوبیا په سجده کی دامام سره شامل سوه او بیایی دامام دلمونځ ختمولو څخه وروسته خپل باقیمانده رکعتونه یې پوره کړل نو لمونځ ددوی صحیح سو. (۱) فقط

<u>دمسبوق امامت</u>: سوال: (۱۲۴۲) دمسبوق امامت درست دی اوکه نه؟ مثلاً زید لمونځ ورکوی، بکر په دوهم یادریم رکعات کی شریك سو. کله چی زید دلمانځه څخه فارغ سو نوبکر دباقی لمونځ پوره کولو دپاره ودریدی نوخالد راغی، اودهغه شاته یی لمونځ شروع کی نو دخالد لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: دمسبوق اقتداء درسته نه ده هغه دانفراد په حالت کی دامام فارغه کیدلو څخه وروسته دنورو امام نسی جوړیدی کما فی الدر المختار: لایجوز الاقتداء به (۲). فقط

<u>لاحق څه رکم لمونځ پوره کړي</u>: سوال: (۱۲۴۳) ددین علماء څه فرمایی په دی مسئله کی چی کله یوسړی دمازیګردوه رکعاته دامام سره وکړل نواودس یی مات سو، فوراً داودس دپاره ولاړی او داودس څخه وروسته دامام سره په آخری قعده کی یوځای سو اوس به هغه آخری دوه رکعاته څه رکم پوره کوی؟ اوکه چیری هغه په دریم رکعات کی یوځای سو نوڅه رکم به یې پوره کوی؟

جواب: حکم ددی داوو چی کله هغه داودس څخه دفارغه کیدلو څخه وروسته راغلی وو اول یی هغه دواړه رکعاته دقرآئت څخه بغیر کړی وای کم چی دبی اودسه کیدلو په وجهی سره فوت سوی وه. بیا که چیری امام په لمانځه کی وی نو دهغه سره به شامل

---

(۱). اذا کبر مع الامام ثم نام حتی صلی الامام رکعة ثم انتبه فانه یصلی الرکعة الاولی وان کان الامام یصلی الرکعة الثانیة ولو لم یشتغل بقضاء ما سبقه الامام ولکن یتابع الامام اولا ثم قضی ما سبقه الامام بعد تسلیم الامام جازت صلوته عندنا (عالمگیری مصری فی المسبوق اللاحق ص ۸۷ ج۱ ، ط. م. ج۱ ص ۹۲) ظفیر.

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ص۵۵۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۷. ظفیر

سوی وای، اوباقی ارکان به یی پوره کړی وای. لیکن داسی یی وکړل چی داودس کولو څخه وروسته دامام سره یوځای سو نواوس دی دامام دسلام ګرځولو څخه وروسته دغه دواړه رکعاتونه دقرآئت څخه بغیر پوره کړی اودا صورة فقهاوو مکروه لیکلی دی اوپه دی کی ګنهګاریږی.

په درمختار ص **۵۵۲** کی دی: والاحق من فاتته الرکعات کلها اوبعضها لکن بعد اقتداء بعذر کغفلة وزحمة وسبق حدث الخ وحکمه کموتم فلایاتی بقرآءة ویبدء الخ بقضاء ما فاته عکس المسبوق ثم یتابع امامه (الی قوله) ولوعکس صح واثم الخ. اوهمدا حکم په دریم رکعات کی دشریکیدلو دی. ([1]) فقط کتبه عزیز الرحمٰن.

که چیری امام لاحق خلیفه جوړ کړی نوهغه به لمونځ څه رکم پوره کوی: سوال: (۱۲۴۴)
اگر امام را درنماز حدث لاحق شود ومقتدی لاحق راخلیفه سازد پس این خلیفه نماز را چگونه تمام کند؟

جواب: امام را اگر حدث لاحق شود ولاحق راخلیفه سازد او بعد تمام صلٰوة قوم مدرك را خلیفه سازد که سلام دهد ولاحق نماز خود راتمام کند (استخلف لاحقًا الی قوله مضی علی صلٰوة الامام واخر ما علیه حتی انتهٰی الی موضع السلام واستخلف من سلم بهم جاز عندنا، فتاوٰی عالمگیری ص **۹۵** ج۱ نولکشوری، محمد جمیل الرحمٰن)

کله چی امام سورة ناس ووایه نو مسبوق مقتدی به کم سورة وایی: سوال: (۱۲۴۵) یوسړی دمابښام په لمانځه کی په دوهم رکعات کی راغی شامل سو، اوامام په دوهم رکعات کی قل اعوذ برب الناس ووایه نواوس دی مقتدی ته دجمعی پوره کیدلو څخه وروسته کم سورة ویل پکاردی؟

جواب: په دی صورة کی دی مقتدی ته اختیار دی چی کم سورة غواړی ودی وایی، دټول قرآن کریم څخه یی اختیار ([2]) دی. (ځکه چی دقرآئت په باب کی فوت سوی رکعتونه دابتداء په حکم کی دی. ظفیر)

مسبوق خپل باقی لمونځ څنګه پوره کړی؟ سوال: (۱۲۴۲) که چیری امام مقیم وی او مقتدی په څلور رکعاته لمونځ کی په آخری رکعات کی شریك سو. نومقتدی به دامام دسلام ګرځولو څخه وروسته په دری واړو رکعاتونو کی څه وایی. آیادری واړه رکعاتونه

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص فی احکام المسبوق المدرك واللاحق ص **۵۵۲** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۹۴**. ظفیر

([2]). والمسبوق من سبقه الامام بها اوببعضها وهو منفرد فیما یقضیه ؒ ویقضی اول صلاته فی حق قرآءة واخرها فی حق تشهد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص **۵۵۷** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۹۲**) ظفیر.

به دقرآت څخه بغير په خاموش اوسيدلو سره ختموي يادوه ركعاته په الحمد اوسورة سره اويو ركعات به صرف په الحمد سره وايي؟

جواب: كم سړي چي يوركعات دامام سره كړي دي هغه مسبوق دي. كه چيري لمونځ څلور ركعاته وي نوباقي به په داشان سره وايي چي په دوو ركعاتونو كي دي فاتحه ووايي او سورة دي هم ورسره يوځای كړي اوپه يوركعات كي دي صرف فاتحه ووايي. والمسبوق من سبقه الامام بها او ببعضها وهو منفرد حتى يثني ويتعوذ الخ (درمختار)، ويقرأ لانه يقضى اول صلاته فى حق القراءة كما يأتى حتى لوترك القراءة لفسدت ([1]) كذا فى الشامى (وفى الفيض عن المستصفى لو ادركه فى ركعة الرباعى يقضى ركعتين بفاتحة وسورة ثم يتشهد ثم باقى بالثالثة بفاتحة خاصة عند ابى حنيفة رحمه الله وقالا ركعة بفاتحة وسورة وتشهد ثم ركعتين اولاهما بفاتحة وسورة وثانيهما بفاتحة خاصة ([2]) اهـ. ظفير)

چي امام مسافر وي نومسبوق به څپل لمونځ څه رکم پوره کوي: **سوال**: (١٢۴٧) مقيم دماپښين په وخت كي دمسافر اقتداء وكړه اوهغه يوركعات ونيوي. مسافر چي دوه ركعاته وكړل نوسلام يي وګرزوی. اوس هغه مقيم كم چي مسبوق دي دری ركعاته څنګه اداء كړي. يعني په دي ركعاتونو كي الحمد اوسورة ووايي اوكه څنګه؟

جواب: ددرمختار اوشامي دروايت څخه معلوميږي چي داسړي لاحق اومسبوق دي. مخكي دوه ركعاته دي دقرآئت څخه بغير اداء كړي اوآخري ركعات دي دقرآئت سره اداء كړي. ([3]) فقط

([1]). وګوری الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ص ٥٥٧ - ٥٥٨ ج١، ط.س. ج١ ص ٥٩٧. ظفير

([2]). رد المحتار باب الامامة ص ٥٥٨ ج١، ط. س. ج١ ص ٥٩٧. ظفير

([3]). واللاحق من فاتته الركعات كلها أو بعضها لكن بعد اقتدائه بعذر كغفلة وزحمة وسبق حدث ومقيم ائتم بمسافر ☆ وحكمه كمؤتم ☆ يبدأ بقضاء ما فاته عكس المسبوق، ثم يتابع إمامه إن أمكنه إدراكه، وإلا تابعه، ثم صلى ما نام فيه بلا قراءة ثم ما سبق به بها إن كان مسبوقا أيضا، ولو عكس صح وأثم، لترك الترتيب (درمختار) قَوْلُهُ ثُمَّ مَا سُبِقَ بِهِ بِهَا إلَخْ أَيْ ثُمَّ صَلَّى اللَّاحِقُ مَا سُبِقَ بِهِ بِقِرَاءَةٍ إنْ كَانَ مَسْبُوقًا أَيْضًا، بِأَنْ اقْتَدَى فِي أَثْنَاءِ صَلَاةِ الْإِمَامِ ثُمَّ نَامَ مَثَلًا. وَهَذَا بَيَانٌ لِلْقِسْمِ الرَّابِعِ وَهُوَ الْمَسْبُوقُ اللَّاحِقُ. وَحُكْمُهُ أَنَّهُ يُصَلِّي إذَا اسْتَيْقَظَ مَثَلًا مَا نَامَ فِيهِ ثُمَّ يُتَابِعُ الْإِمَامَ فِيمَا أَدْرَكَ ثُمَّ يَقْضِي مَا فَاتَهُ. اهـ. بَيَانُهُ انه لو سبق بركعة من ذوات الاربع ونام فِي رَكْعَتَيْنِ يُصَلِّي أَوَّلًا مَا نَامَ فِيهِ ثُمَّ مَا أَدْرَكَهُ مَعَ الْإِمَامِ ثُمَّ مَا سُبِقَ بِهِ فَيُصَلِّي رَكْعَةً مِمَّا نَامَ فِيهِ مَعَ الْإِمَامِ وَيَقْعُدُ مُتَابَعَةً لَهُ لِأَنَّهَا ثَانِيَةُ إمَامِهِ ثُمَّ يُصَلِّي الْأُخْرَى مِمَّا نَامَ فِيهِ، وَيَقْعُدُ لِأَنَّهَا ثَانِيَتُهُ ثُمَّ يُصَلِّي الَّتِي انْتَبَهَ فِيهَا، وَيَقْعُدُ مُتَابَعَةً لِإِمَامِهِ لِأَنَّهَا رَابِعَةٌ، وَكُلُّ ذَلِكَ بِغَيْرِ قِرَاءَةٍ لِأَنَّهُ مُقْتَدٍ ثُمَّ يُصَلِّي الرَّكْعَةَ الَّتِي سُبِقَ بِهَا بِقِرَاءَةِ الْفَاتِحَةِ وَسُورَةٍ وَالْأَصْلُ أَنَّ اللَّاحِقَ يُصَلِّي عَلَى تَرْتِيبِ صَلَاةِ الْإِمَامِ، وَالْمَسْبُوقُ يَقْضِي مَا سُبِقَ بِهِ بَعْدَ فَرَاغِ الْإِمَامِ. ردالمحتار باب الامامة =

دامام دقرآءت کولو په حالت کی چی کم مقتدي شریک سي هغه ته ثناء ویل نه دي پکار:

سوال: (۱۲۴۸) په جمعه کی دامام دقرآئت دشروع کولو څخه وروسته که چیری څوك شریك سو، نوهغه ته ثنا ویل پکاردی اوکه نه؟

جواب: هغه ته ثناویل نه دی (١) پکار.

څوک چي په رکوع کي شریک سي دهغه دپاره ثنا نسته: سوال: (۱۲۴۹) کم سړی چی په رکوع کی شریك سو، دهغه څخه ثنا ساقطه سوه اوکه نه؟

جواب: ثناء دهغه څخه ساقطه سوه. (٢) فقط

مسبوق دي دسجدي سهوي په سلام کي دامام اقتداء نه کوي خوسجده دي وکړي: سوال: (۱۲۵۰) چی امام دسجده سهوی دپاره سلام ګرزوی نومسبوق دی دامام سره سلام وګرزوی اوکه بغیر دسلام ګرځولو څخه په سجده سهوه کی شریك سی؟

جواب: مسبوق دی امام سره سلام نه ګرزوی لیکن په سجده سهوه کی دی شریك اوسی. په درمختار کی دی: والمسبوق یسجد مع امامه. قال فی الشامی قید بالسجود لانه لا یتابعه فی السلام بل یسجد معه ویتشهد فاذا سلم الامام قام الی القضاء (٣). فقط

دسلام څخه لړ مخکي په جمعه کي شریکیدونکي تشهد پوره کړي اوکه دسلام څخه وروسته فوراً ودریږي: سوال: (۱۲۵۱) امام راسته طرف ته سلام ګرځوونکیوو چی مسبوق راغی، اوشامل سو. اوس به مسبوق خپل تشهد پوره کوی او ولاړیږی به. اوکه دسلام څخه وروسته فوراً ودریږی. په امداد الفتاوٰی کی حضرت مولانا اشرف علی صاحب تحریر فرمایلی دی چی مسبوق دی دتشهد پوره کولو څخه وروسته ولاړیږی.

جواب: دغه سړی دی دتشهد پوره کولو څخه وروسته ولاړیږی. څنګه چی حضرت مولانا اشرف علی صاحب په امداد الفتاوٰی کی لیکلی (٤) دی. فقط

= مطلب فی احکام المسبوق والمدرك واللاحق ص ۵۵۲ – ۵۵۷ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۵۹۴) ظفیر.

(١). وقرأ سبحانك اللهم ﴿ الا اذا شرع الامام فی القراءة سواء کان مسبوقا اومدرکاً وسواء کان امامه یجهر بالقراءة اولا، فانه لا یاتی به لما فی النهر عن الصغری ادرك الامام فی القیام یثنی ما لم یبدأ القراءة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلاة ص ۴۵۲ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۴۸۸). ظفیر

(٢). وقرأ سبحانك اللهم ﴿ الا اذا شرع الامام فی القراءة ﴿ فلا یأتی به ولو ادرکه راکعا اوساجدا ان کبر رأیه انه یدرکه اتی به (ایضاً ، ط.س. ج١ ص ۴۸۸). ظفیر

(٣). ردالمحتار باب سجود السهو ص ۲۹۲ ج١ ، ط.س. ج٢ ص ٨٢. ظفیر

(٤). بخلاف سلامه اوقیامه لثالثة قبل إتمام المؤتم التشهد فانه لایتابعه بل یتمه لوجوبه ولم یتم جاز (درمختار) وشمل باطلاقه ما لواقتدی به اثناء التشهد الاول او الاخیر فحین قعد قام امامه اوسلم ومقتضاه انه یتم التشهد ثم یقوم ولم اره صریحاً ثم رأیته فی الذخیرة ناقلا عن ابی اللیث المختار عندی انه یتم التشهد وان لم یفعل اجزأه اهـ (ردالمحتار باب صفة الصلاة ص۴۲۳ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۴۹۲). ظفیر

چې مسبوق دامام سره په هیره سلام وگرزوی بیا دیادیدلو څخه وروسته ودریږی نو پر هغه باندې سجده سهوه سته: **سوال**: (۱۲۵۲) دامام سره مسبوق سلام وگرځوی بیا ورته رایاد سو چې ستا په ذمه خو یورکعات دی، او ولاړ سو. نوپه دی صورة کی دمسبوق په ذمه سجده سهوه لازمه ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی سجده سهوه دمسبوق په ذمه لازمه ده فی الدر المختار: ولوسلم ساهیًا بعد امامه لزمه السهو والا لا ؒ (درمختار) قوله والا لا ای وان سلم معه اوقبله لا یلزمه لانه مقتد فی هاتین الحالتین الی ان قال قلت یشیر الی ان الغالب لزوم السجود لان الاغلب عدم (۱) المعیة. ؒ شامی جلد اول ص ۴۰۲ فقط.

دامام دلمانځه په باطلیدلوسره دمسبوق لمونځ هم باطل دی: **سوال**: (۱۲۵۳) امام دماپښین په لمانځه کی آخری قعده بالکل ونه کړه اوپه هیره یی پنځم رکعات هم وکی. اوس دکم مسبوق چې یورکعات تللی وو هغه په دی خیال چې زما آخری قعده خو دامام په پنځم رکعات کی ده، دامام اقتداء یی ماته کړه. امام خو دشپږم رکعات دپاره ودریدی اوهغه خپل څلور رکعاته وکړل اوسلام یی وگرزوی. اوس مسبوق وایی چې زما څلور رکعاته اداء سول ولی چې ما آخری قعده پرې ایښی نه ده اوامام آخره قعده پرې ښوولە دهغه لمونځ نفل سو. آیا عندالله دمسبوق فرض په دی حالت کی اداء سوه اوکه دامام په شان دهغه لمونځ هم نفل سو. او داقتداء ماتولو په وجهی سره نفل صحیح سول اوکه نه؟ په داسی حالت کی مسبوق ته اقتداء ماتول جائز وو اوکه نه؟

جواب: کله چې دامام لمونځ دآخری قعدی نه کیدلو په وجه ونسو، اوفرضیت دهغه باطل سو نودمسبوق لمونځ هم باطل سو یعنی فرضیت دهغه اداء نسو هغه ته لمونځ کول پکار دی. (۲) فقط

که مسبوق په زیات رکعات کی اقتداء وکړه، نو دهغه لمونځ باطل دی: **سوال**: (۱۲۵۴) دماښام په لمانځه کی یو سړی په آخری قعده کی شامل سو اوهغه ته داعلم وسو چې دا آخری قعده ده، خوامام ته سهوه وسوه چې شاید دامخکنی قعده ده. امام په دی خیال سره دخپل لمونځ دپوره کولو دپاره ولاړسو، امام سجده سهوه هم وکړه، چونکه آخری

(۱). ردالمحتار باب الامامة مطلب احکام المسبوق ص ۵۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۹۲. ظفیر

(۲). من فرائضها التی لاتصح بدونها التحریمة الخ منها القعود الاخیر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ص ۴۱۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۴۲) واذا ظهر حدث امامه وکذا کل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا کما یلزم الامام اخبار القوم اذا أمهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او رکن (ایضًا باب الامامة ص ۳۵۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۱). ظفیر

رکعت دامام زائد رکعت یانفل رکعت وو. اوس کم سړی چی په آخری قعده کی په جمعه کی شامل سوی ووهغه یورکعت دجمعی سره وکی اوس به داسړی دری رکعاته اداء کوی اوکه دوه رکعاته. که چیری ددری رکعاتو داداء کولو حکم وی نوددی وضاحت دی وسی چی په کم رکعت کی قعده وسی. اوپه کم رکعت کی نه. اوکه چیری یوسړی په دی زائد رکعت کی شامل سو چاته چی داعلم نه وو چی کم یورکعت دی نودهغه دپاره څه حکم دی؟

جواب: که چیری دغه مسبوق په هغه زائد رکعات کی کم چی نفل وه دخپل امام تابع پاته وو نودهغه لمونځ فاسد سو هغه دی مات کړی اودنوی سره دی لمونځ وکړی. ولوقام امامه فی الخامسة فتابعه ان بعد القعود تفسد (١) الخ درمختار. اوپه دغه زائد نفل رکعات کی چی کم سړی شامل سی دهغه به هم فرض نه کیږی هغه دی بیا لمونځ وکړی. فقط

چی مسبوق په هیره دسلام ګرځولو څخه وروسته دعاء وکړی بیا ورته یادسی، نوڅه وکړی؟

سوال: (۱۲۵۵) یوسړی په لمانځه کی په داسی وخت کی شامل سو چی یو رکعات سوی وو. هغه دامام سره سلام وګرزوی بیایی لاسونه پورته کړل اوپه عربی ژبه کی یی دعا هم وغوښته بیا ورپه یادسو چی ستاخو یویا دوه رکعاته باقی دی. دهغه دپاره څه حکم دی؟

جواب: بغیر دڅه کلام اوخبری کولو څخه که چیری ولاړ سو که څه هم سلام یی وګرزوی اولاسونه یی پورته کړل دعایی هم وغوښته. دهغه لمونځ صحیح سو په آخره کی دی سجده سهوه وکړی. (٢) فقط

مسبوق دی دامام په آخره قعده کی صرف التحیات ووایی: **سوال**: (۱۲۵۶) که چیری مسبوق دامام سره دمازیګر یاماښام په دوهم رکعات کی شریك سی نوپه امام پسی په اوله قعده کی صرف التحیات، اوپه دوهمه قعده کی به التحیات اودرود اودعاءِ ماثوره وایی اوکه نه؟

جواب: ویل نه دی پکار بلکی التحیات دی داسی په کرار کرار ووایی چی دامام ترسلام ګرځولو پوری ختمه سی اوکه مخکی ختمه سی نوده ته اختیار دی که خوښه یی وی چپ دی ناست اوسی اوکه خوښه یی وی دتشهد کلمه دی ووایی اوکه خوښه یی وی التحیات

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق اهـ ص ۵۲۰ ج١ قبیل باب الاستخلاف. ظفیر

(٢). لوسلم ساهیًا ان بعد امامه لزمه السهو والا لا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار، قبل باب الاستخلاف ص ۵۲۰ ج١ ، ط.س. ج١ ص ۵۹۹). ظفیر

دی دوباره (۱) ووایی.

مسبوق دی دامام سره التحیات وایی: **سوال**: (۱۲۵۷) که چیری مسبوق دمابنام په دریم رکعات کی دامام سره شریك سی نوپه آخری قعده کی به دامام سره التحیات اودرود اودعا وایی اوکه نه؟

جواب: التحیات ویل پکاردی. نه درود اودعا (۲). فقط

دامام دالسلام ویلو څخه وروسته اقتداء درسته نه ده: **سوال**: (۱۲۵۸) دامام دمخکنی سلام گرځولو په وخت کی یوسړی دأَلسَّلَامُ په ختمیدلو باندی اودوهم دالسلام (علیکم) په ختمیدلو باندی اودریم په أَلسلام علیکم ورحمة الله باندی شامل سو. نوهغوی ته دجمع ثواب حاصل سو اوکه نه؟ اوداسړی په جمعه کی شریك سو اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی وتنقضی قدوة بالاول قبل علیکم (۳). الخ ددی څخه معلومه سوه چی امام کله لفظ دأَلسَّلَامُ ووایه، نودهغه څخه وروسته اقتداء درسته نه ده اودغه سړی دامام سره شامل نسو، خپل لمونځ دی یوازی وکړی او تحریمه دی یوازی ووایی او لمونځ دی شروع کړی خپل ځان دی دامام مقتدی نه گڼی (۴). فقط

په جهری لمانځه کی به مسبوق جهری قرآئت وایی اوکه سری: **سوال**: (۱۲۵۹) په کم لمانځه کی چی قرآئت جهراً دی په هغه کی که چیری څوك دیو یادوه رکعاتونو دکیدلو څخه وروسته شریك سو نودامام دسلام گرځولو څخه وروسته به په فوت سوی رکعات کی قرآئت جهراً کوی اوکه نه؟

جواب: هغه ته په جهریه (لمونځ) کی قرآئت بالجهر ویل ښه دی اوکرار ویل هم درست دی. اوکه جهراً کوی نوپه ادنٰی جهر دی اکتفاء وکړی ځکه چی هغه په قضاء دماسبق کی منفرد دی. اومنفرد ته په جهر اوسرکی اختیار وی. ویخیر المنفرد فی الجهر وهو افضل ویکتفی بادناه ان ادی الخ. درمختار. (۵) فقط

---

(۱). ومن جملتها انه قیل انه اذافرغ (المسبوق) من التشهد قبل سلام الامام یکرره من اوله وقیل یکرر کلمة الشهادة وقیل یسکت وقیل یاتی بالصلاة والدعاء والصحیح ان یترسل لیفرغ من التشهد عند سلام الامام (غنیة المستملی ص ۴۴۱) ظفیر.

(۲). حواله سابق. ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب واجبات الصلاة ص ۴۳۲ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۲۸. ظفیر

(۴). قوله وتنقضی قدوة بالاول ای بالسلام الاول قال فی التجنیس الامام اذافرغ من صلاته فلما قال السلام جاء رجل واقتدی به قبل ان یقول علیکم لایصیر داخلا فی صلاته لان هٰذا سلام (ردالمحتار باب صفة الصلاة مطلب واجبات الصلاة ص ۴۳۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۲۸) ظفیر.

(۵). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلاة فصل فی القرآئت ص ۴۹۸ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص =

په څلور رکعاته لمانځه کې یو رکعات نیوونکې په باقي رکعاتونو کې قرآئت کم ځاي وکړي،

سوال: (۱۳۲۰) مقتدي په څلور رکعاته لمانځه کې په جمعي سره یورکعات لاندي کي. دامام دسلام څخه وروسته چې دی کم دري رکعاته کوي نو په هغه کې قرآئت په کم یو رکعات کې کوی؟

جواب: په در المختار احکام المسبوق کې دي: ویقضي اول صلوته في حق قرآء ة واٰخرها في حق تشهد (۱) الخ. ددي روایت څخه معلومه سوه چې مسبوق به په صورة مسئوله کې دامام دسلام څخه وروسته په مخکنیو دوو رکعاتوکی قرآئت وایي اوپه آخري یورکعات کې دي صرف الحمد ووایي. فقط

(وفي رد المحتار عن المستصفى لو ادركه في ركعة الرباعي يقضي ركعتين بفاتحة وسورة ثم يتشهد ثم باقي بالثالثة بفاتحة خاصة عند ابي حنيفة رحمه الله وقالا ركعة بفاتحة وسورة وتشهد ثم ركعتين اولاهما بفاتحة وسورة وثانيهما بفاتحة خاصة (۲) اهـ. ظفير)

مقیم مقتدیان په مسافر امام پسې باقي لمونځ څنګه پوره کړي؟ سوال: (۱۲۲۱) امام مسافر دی اومقتدي مقیم دي، که چیري مقتدي مذکور دامام مذکور سره په څلور رکعاته لمانځه کې په اول رکعات کې شریك سوی وي، نوڅه رکم لمونځ پوره کړي؟

سوال: (۱۲۲۲\۲) اوڅوك چې په دوهم رکعت کې شریك سوی وي نولمونځ به څه رنګه پوره کوی ؟

سوال: (۱۲۲۳\۳) اوڅوك چې په التحیات کې شریك سوی وي نو خپل لمونځ څه رکم وکړي؟

جواب: (۱) نوټ: ددي اولني جواب مفتي عنایت الهي لیکلي وو. دمفتي عنایت الهي جواب: په مخکني صورة کې مقتدي لاحق دی. دامام سره دلمونځ دپوره کولو څخه وروسته دي باقي مانده دوه رکعاته دقرآئت څخه بغیر وکړي.

(۳،۲) په آخري دواړو صورتونو کې مقتدي مسبوق دی. په دوهم صورة کې دامام دسلام څخه وروسته دي ودریږي په مخکې رکعات کې دي فاتحة الکتاب ووایي. اوپه دریم صورة کې مقتدي په څلورو واړو رکعاتونوکې مسبوق دي لهٰذاامام سلام څخه وروسته دي په مخکنیو دوو رکعاتونوکې الحمد اوسورة ووایي اوددوهم رکعات په آخره کې دي

= ۵۳۳. ظفیر.

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب في المسبوق واللاحق ص ۵۵۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۷. ظفیر.

(۲). وګوری الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۵۷ – ۵۵۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۷. ظفیر

صرف الحمد ووایي. فقط حرره عنایت الهی، وأملاه خلیل احمد.

جواب: (دحضرت مفتی صاحب دار العلوم څخه)

دفقهي دکتابونو دتفصیل مطابق اولنی جواب صحیح دی او ددوهم اودریم سوال جواب دادی چی په دواړو صورتونو کی مقتدی لاحق اومسبوق دی. اوحکم دداسی مقتدی دا دی چی مخکنی دوه رکعاته دی بغیر دقرآئته اداء کړی په کم کی چی لاحق دی. او وروسته دی هغه رکعت اداء کړی په کم کی چی مسبوق دی. نو په دوهم صورة کی دی مخکنی دوه رکعاته بغیر قرائته اداء کړی اوبیادی دوه رکعاته دقرآئت سره اداء کړی.

ومقیم ائتم بمسافر قوله ومقیم ای فهو لاحق بالنظر للاخیرتین وقد یکون مسبوقًا ایضًا کما اذا فاته اول صلاة امامه المسافر. شامی (۱). وحکمه کمؤتم فلا یاتی بقراءة الخ ویبدء بقضاء ما فات عکس المسبوق الخ قوله ثم ماسبق به بها الخ ای ثم صلی اللاحق ماسبق به بقرآئة وان کان مسبوق ایضًا. الخ شامی (۲)

په دوهم او دریم رکعات کی مقتدی مقیم محض مسبوق ګرځول دفقهاوو دتصریحاتو څخه خلاف دی اوټول رکعاتونه دقرآئت سره اداء کول هم دفقهاوو دمقرری قاعدی څخه خلاف دی.

دکم لاحق چی اودس مات سی نو هغه په اودس کی مسواک کولی سی اوکه نه؟ سوال:

(۱۲۲۴) کله چی په لمانځه کی اودس مات سی اولاحق داودس اراده وکړی نوپه دغه اودس کی مسواك کولی سی اوکه نه؟

جواب: کولی یې سی (۳). فقط (واذا ساغ له البناء توضا فورًا بکل سببه (در مختار) ای من سنن الوضوء لان ذلك من باب اکماله فکان من توابعه فیحتمل کما یحتمل الاصل بدائع (رد المحتار. باب الاستخلاف ص ۵۲۲ -۵۲۷ ج۱. ظفیر)

مسبوق په هیره سلام وګرزوی چی ورپاد سو نو باقی رکعات یی پوره کی، نولمونځ صحیح سو: **سوال**: (۱۲۲۵) یومسبوق سهوًا دامام سره سلام وګرزوی. مقتدی مسبوق ته وویل چی ته یورکعات بل وکړه په دی سره مسبوق ته هغه رکعات ورپاد سو اومسبوق غلی ولاړ سو اورکعات یی وکی. نودهغه لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: لمونځ دهغه صحیح سو. هٰذا هو الاصح (۱). فقط (خوهغه ته سجده سهوه کول پکار دی. احتیاط په همدی کی دی. (۲) ظفیر)

---

(۱). ردالمحتار. باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق الخ ص ۵۵۲ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۹۴. ظفیر

(۲). ایضًا ص ۵۵۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۲. ظفیر

(۳). ومنها السواك ای من سنن الوضوء (عالمګیری مصری سنن وضو ص۷) ظفیر.

که لاحق خپل تللی رکعات دمسبوق په شان پوره کړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۲۶) دماخستن په لمانځه کی مقتدی په دریم رکعات کی په ولاړه ولاړه بیده سو، کله چی امام یورکعات پوره کی نوهلته دخوب څخه ولاړسو. نوهغه دامام دسلام څخه وروسته دمسبوق په شان باقی لمونځ اداء کی. نودا لمونځ درست سو اوکه نه؟

جواب: لمونځ صحیح سو اوهغه ته دلاحق په شان دقرآئت څخه بغیر دغه رکعات کول پکار دی ([3]). فقط

کم امام چی بی اودسه سو اوخلیفه یی جوړکی نواوس چی هغه راسی نواقتداء وکړی اوکه امام جوړسی؟ سوال: (۱۲۲۷) امام بی اودسه سو اوبل څوك یی امام جوړکی، ولاړی اودس یی وکی، اوس چی راغی نومقتدی جوړسی اولمونځ وکړی اوکه امام سی. که چیری امام اودس کوی اوخلیفه سلام وگرزوی نوامام څه رکم لمونځ پوره کړی؟

جواب: مقتدی دی جوړسی اولمونځ دی پوره کړی. اوکه چیری خلیفه سلام وگرزوی، نو هم دی باقی مانده لمونځ پوره کړی، دنوی سره دکولو ضرورت نسته. ([4]) فقط

دمسافر امام اقتداء کونکی مسبوق به خپل لمونځ څنګه پوره کوی؟ سوال: (۱۲۲۸) امام مسافردی، ددوهم رکعات په التحیات کی یوسړی مقیم په لمانځه کی شریك سو. امام خپل دوه رکعاته پوره کړل اوسلام یی وگرزوی. نومقتدی ته په ټولو څلورو رکعاتونو کی دالحمد په اندازه دریدلوسره لمونځ پوره کول پکاردی اوکه په دواړو آخری رکعاتونو

([1]). حتی لوامتثل امر غیره فقیل له تقدم فتقدم اودخل فرجة الصف فوسع له فسدت بل یمکث ساعة ثم یتقدم برائه (درمختار قوله اودخل فرجة الخ المعتمد فیه عدم الفساد (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ص **۵۸۱** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۲۲۲) ددی څخه معلومه سوه چی دمقتدی دوینا څخه وروسته دی یوه لمحه تم سی بیادی ولاړسی اوپوره دی کړی اوکه چیری دوینا سره سمدستی ولاړسو نوهم به دمعتمد قول په بنیاد باندی لمونځ نه فاسدیږی. بلکی اداء سو. والله اعلم ظفیر مفتاحی

([2]). ولوسلم ساهیا ان بعد امامه لزمه السهو والا، لا (درمختار) أَيْ وَإِنْ سَلَّمَ مَعَهُ أَوْ قَبْلَهُ لَا يَلْزَمُهُ لِأَنَّهُ مُقْتَدٍ فِي هَاتَيْنِ الْحَالَتَيْنِ. وَفِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ عَنْ الْمُحِيطِ إنْ سَلَّمَ فِي الْأُولَى مُقَارِنًا لِسَلَامِهِ فَلَا سَهْوَ عَلَيْهِ لِأَنَّهُ مُقْتَدٍ بِهِ ، وَبَعْدَهُ يَلْزَمُ لِأَنَّهُ مُنْفَرِدٌ ا هـ ثُمَّ قَالَ : فَعَلَى هَذَا يُرَادُ بِالْمَعِيَّةِ حَقِيقَتُهَا وَهُوَ نَادِرُ الْوُقُوعِ . ا هـ قُلْت : يُشِيرُ إلَى أَنَّ الْغَالِبَ لُزُومُ السُّجُودِ لِأَنَّ الْأَغْلَبَ عَدَمُ الْمَعِيَّةِ ، وَهَذَا مِمَّا يَغْفُلُ عَنْهُ كَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ فَلْيُتَنَبَّهْ لَهُ (ردالمحتار باب الامامة مطلب فی المسبوق والمدرك واللاحق ص **۵۲۰** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۹۸**). ظ

([3]). واللاحق من فاتته الرکعات کلها اوبعضها لکن بعد اقتدائه بعذر کعقله الخ وحکمه کمؤتم فلایاتی بقرائت ولاسهو (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق واللاحق المدرك ص **۵۵۲** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۹۴**). ظفیر

([4]). ومن سبقه الحدث فی الصلوة انصرف فان کان اماما استخلف وتوضا وبنی (هدایه باب الحدث فی الصلوة ص **۱۱۵** ج۱). ظفیر

کی هغه ته الحمد ویل پکار دی.

چې دامام سره دچا څخه دوه رکعاته تللي وي، نو هغه دي په هغه کی الحمد اوسورة دواړه
ووايي: **سوال:** (۱۲۲۹ \۲) امام مقیم دی، مقیم مقتدی ددوو رکعاتونو وروسته په التحیات کی شریك سو، نومقتدی ته په خپلو باقی مانده رکعاتونو کی کم چی به دامام دلمونځ ختمولو څخه وروسته پوره کوی الحمد ویل پکاردی اوکه دالحمد په اندازه ده ته چوپ دریدل پکاردی؟

جواب: (۱) ددرمختار اوشامی دعبارت څخه معلومیږی چی دغه مقتدی مقیم مسبوق هم دی اولاحق هم دی. نومخکنی دوه رکعاته دی دقرآئت څخه بغیر ووایی او وروسته دوه رکعاته دی دقرآئت سره ووایی یعنی په هغه کی دی الحمد اوسورة دواړه ووایی. ([1])
(۲) الحمد اوسورة دواړه ویل پکاردی. ([2]) فقط

دسهار په لمانځه کی مسبوق باقی رکعت په جهری قرائت سره پوره کړی، نو دا درست دی؟

سوال: (۱۲۷۰) دسهار په وخت کی زه جومات ته په داسی وخت کی ورسیدم چی دفرضو یورکعات دجمعی سره ما ونیولای سوای. کله چی امام سلام وګرزوی نوما خپل باقی مانده رکعات په ولاړه جهری قرآئت سره پوره کی نوپه دی کی څه حرج خونسته.

جواب: په دی کی هیڅ ([3]) حرج نسته. فقط

که درکوع څخه مخکی شریک سو نودي مسبوق نه دي: **سوال:** (۱۲۷۱) که چیری مسبوق دقیام په رکعاتونو کی شامل سو لیکن فاتحه یی ونه ویل نودهغه رکعاتونه پوره سوه، اوکه نه؟

جواب: دهغه لمونځ صحیح سو، اوهغه رکعات هم صحیح سو. ([1]) فقط

([1]). واللاحق من فاتته رکعات ﷺ بعد اقتدائه بعذر ﷺ مقیم ائتم بمسافر ﷺ حکمه کمؤتم فلایاتی بقراءة ویبدأ بقضاء ما فاته عکس المسبوق، ثم یتابع إمامه إن أمکنه إدراکه، وإلا تابعه، ثم صلی ما نام فیه بلا قراءة ثم ما سبق به بها إن کان مسبوقا أیضا (درمختار) هٰذا بیان للقسم الرابع وهو المسبوق اللاحق الخ ثم یصلی الرکعة التی سبق بها بقرائت الفاتحة وسورة (ردالمحتار باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق واللاحق والمدرك ص **۵۵۲** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۹۴**). ظفیر

([2]). والمسبوق من سبقه الامام بها اوببعضها وهو منفرد حتی یثنی ویتعوذ ویقرأ ﷺ فیما یقضیه ﷺ اول صلاته فی حق قراءة واخرها فی حق تشهد ﷺ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی المسبوق. الخ ص **۵۵۷** ج۱، ط.س. ج۱ ص **۵۲۹**). ظفیر

([3]). ویخیر المنفرد فی الجهر الخ کمن سبق برکعة من الجمعة فقام یقضیها یخیر (درمختار) وبهذا التقریر ظهر وجه اقتصاره علی الجمعة وان کان الحکم کذلك لو سبق برکعة من العشاء ونحوه لان المقصود اثبات الجهر فی القضاء فی وقت المخافتة لا مطلقا فافهم. (ردالمحتار فصل فی القرآئت ص **۴۹۸** ج۱، ط.س. ج۱ ص**۵۳۳**) ظ

په مخکنی قعده کی مقتدی تشهد نه وو پوره کړی چی امام ولاړیدی، نو مقتدی څه وکړی؟

سوال: (۱۲۷۲) که چیری مسبوق دامام سره په مخکنی قعده کی شریك سی نو دامام دفوراً ولاړیدلو سره دی دهغه پیروی وکړی اوکه تشهد پوره کړی بیا ولاړیږی. که تشهد پوره نه کړی نوپه لمانځه کی فساد راځی اوکه نه؟

جواب: درد المحتار شامی دعبارت مذکوره څخه وروسته داهم مذکور دی: ثم رأیته فی الذخیرة ناقلا عن ابی اللیث المختار عندی انه یتم التشهد وان لم یفعل (۲) اجزاه الخ. ددی آخری عبارت وان لم یفعل اجزاه څخه معلومه سوه چی که چیری مقتدی تشهد پوره نه کړی اودامام سره ولاړسی نولمونځ صحیح دی. اوپه دی کی اختلاف دی چی په دی کی کراهت سته اوکه نه؟ حاصل داچی دتشهد نه پوره کولو په صورة کی لمونځ کیږی دلمانځه دفساد هیڅوك قائل نه دی. فقط

دامام سره صرف یورکعات نیونکی به قاعده کله کوی؟ **سوال:** (۱۲۷۳) که څوك مقتدی دماپښین یامازیګر په لمانځه کی هغه وخت شریك سو چی یورکعات باقی وو نودامام دسلام ګرځولو څخه وروسته به دغه مقتدی دیورکعات څخه وروسته قعده کوی اوکه ددوو رکعاتونو وروسته؟

جواب: دیورکعات څخه وروسته قعده کول پکاردی. (۳) فقط

که دمسبوق په سابقه رکعات کی یوفرض پاته سی نوهغه به څه کوی؟ **سوال:** (۱۲۷۴) که چیری دمسبوق څخه په سابقه رکعات کی فرض پاته سی نوټول لمونځ دنوی سره وکړی اوکه سجده سهوه وکړی؟

---

(۱). وحاصله ان الاقتداء لا یثبت فی الابتداء علی وجه یدرك به الرکعة مع الامام الا بادراك جزء من القیام او مما فی حکمه وهو الرکوع لوجود المشارکة فی اکثرها فاذا تحقق منه ذلك لا یضره التخلف بعده (ردالمحتار باب ادراك الفریضة تحت قوله لان المشارکة ص ۲۷۵ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۴۱). ظفیر

(۲). ټول عبارت داسی دی. وشمل باطلاقه مالو اقتدی به فی اثناء التشهد الاول او الاخیر فحین فقد قام امامه اوسلم ومقتضاه انه یتم التشهد ثم یقول ولم اره صریحا ثم رایته فی الذخیرة ناقلا الخ (ردالمحتار باب صفة الصلاة فصل تالیف الصلوة تحت قوله بخلاف سلامه الخ قبل اتمام المؤتم التشهد فانه لا یتابعه ص ۴۲۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۴۹۲) ظفیر.

(۳). والمسبوق من سبقه الامام بها اوببعضها وهو منفرد ... ویقضی اول صلاته فی حق قراءة واخرها فی حق تشهد فمدرك رکعة من غیر فجر یاتی برکعتین بفاتحة وسودة وتشهد بینهما وبرابعة الرباعی بفاتحة فقط ولا یقعد قبلها (درمختار) وفی الفیض عن المستصفی لوادرکه فی رکعة الرباعی یقضی رکعتین بفاتحة وسورة ثم یتشهد ثم یاتی بالثالثة بفاتحة خاصة عند ابی حنیفة رحمه الله وقالا رکعة بفاتحة وسورة وتشهد ثم رکعتین اولاهما بفاتحة وسورة وثانیتها بفاتحة خاصة آهـ وظاهر کلامهم اعتماد قول محمد (رد المحتار باب الامامة مطلب فی المسبوق واللاحق ص ۵۵۷ – ۵۵۸ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۹۲) ظفیر.

جواب: که چیری هغه دفرض اعاده ونه کړه نولمونځ دی بیا دسره وکړی. ([1]) فقط

په سجده کی شامليدونکی مسبوق به ثناء کله وايي؟ **سوال**: (۱۲۷۵) یوسړی دمانبام په لمانځه کی ددوهم رکعات په سجده کی شریك سو، آیاهغه ته په دریم رکعات کی ثناویل پکاردی؟

جواب: هغه ته هم هغه وخت یعنی دتکبیر تحریمه څخه وروسته ثناء ویل پکاردی. ولو ادرکه راکعا اوساجداً ان اکبر رایه ان یدرکه اتی به . درمختار ([2]). فقط

کم مسبوق چی په آخری رکعات کی لاحق جوړسو، هغه به لمونځ څنګه پوره کوی؟ **سوال**: (۱۲۷۶) شخصی مسبوق درنماز چهار گانه خلف امام در رکعت اخیر لاحق شد بعد از سلام امام بچه طور باقی نماز اداء خواهد ساخت؟

جواب: مذکور مسبوق بقیه نماز رابعد فراغ امام بدین طریق اداء کند که در رکعات اولی ازسه رکعات باقیه فاتحه وسورة بخواند واین رکعات راتمام کرده قعده اولی بکند بعده قیام کرده رکعات ثانیه بفاتحه وسورة تمام کرده رکعات اخیره سویمی را از قرآئت سورة خالی داشته صرف بفاتحه اکتفاء کرده آن رکعات راتمام کرده قعده بکند وسلام کند. قال فی الدر المختار فی حکم المسبوق ویقضی اول صلاته فی حق قرآئت واٰخرها فی حق تشهد فمدرك رکعة من غیر فجر یاتی برکعتین بفاتحة وسورة وتشهد بینهما وبرابعة الرباعی ([3]) بفاتحه الخ . فقط

دمسبوق لمونځ دامام دلمانځه پرصحت باندی موقوف دی؟ **سوال**: (۱۲۷۷) یوسړی دسهار په لمانځه کی په التحیات کی شامل سو، دامام سلام ګرځولو څخه وروسته هغه لمونځ پوره کی اوفارغه سو. اوپه یو سبب سره دامام لمونځ نه وو شوی نو دمسبوق لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

جواب: په دغه صورة کی ددی مسبوق لمونځ هم ونسو ([4]). فقط

([1]). ومن فرائضها التی لا تصح بدونها (درمختار) اذ لا شيء من الفروض ما تصح الصلاة بدونه بلا عذر (رد المحتار باب صفة الصلاة ج۱ ص ۴۱۱ ، ط. س. ج۱ ص ۴۴۲). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة بعد الفصل ص ۴۵۲ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص۴۸۸. ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ص ۵۵۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۲. ظفیر

([4]). اذاظهر حدث امامه وکذا کل مفسد فی رای مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا (در مختار) واشار به الی حدیث الامام ضامن اذلیس المراد به الکفالة بل التضمن بمعنی ان صلاة الامام متضمنة لصلاة المقتدی ولذا اشترط عدم مغیرتهما فاذا صحت صلاة الامام صحت صلاة المقتدی الا لمانع اخر واذا فسدت صلاته فسدت صلاة المقتدی لانه اذا فسد الشيئ فسد ما ضمنه (ردالمحتار باب الامامة ص ۵۵۳ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۱). ظفیر

مسبوق به ثناکله وایی؟ سوال: (۱۲۷۸) مسبوق به ثنا اوتعوذ څنګه وایی؟
جواب: مسبوق ته داحکم دی چی کم وخت دخپل باقی مانده رکعات دکولودپاره ولاړیږی نوپه هغه وخت کی دی ثنا اوتعوذ ووایی اوکم وخت چی دامام سره شریك سو که چیری هغه وخت امام جهری قرآئت کوی نونه دی وایی اوکه سِری قرآئت وی نوهغه دی هم ووایی (۱) بیا کله چی دخپل رکعات پوره کولو دپاره ولاړیږی، نوهغه وخت دی دوباره ووایی. کذا فی الدر المختار والشامی فقط. والله تعالی اعلم.
څوک چی په دوهم رکعات کی شریک سی نوثنابه وایی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۷۹) امام یو رکعات کړی وو. کله چی مقتدی ورسره په جمعه کی شریك سی نوسبحانك اللهم الخ ویل کیږی اوکه نه؟
جواب: مسبوق چی دامام فارغ کیدلوڅخه وروسته دخپل فوت سوی رکعات دکولودپاره ولاړیږی نوهغه وخت دی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ الخ ووایی. (۲) فقط
څوک چی دماښام دوه رکعاته امام سره ونیسی نوهغه به په قعده کی دامام سره صرف التحیات وایی اوکه درود وغیره هم: **سوال**: (۱۲۸۰) که چیری موږ په ماښام کی دامام سره دوه رکعاته لاندی کړل نوپه وروسته تشهد کی به هرڅه ویل وی اوکه څنګه؟ حالانکی موږ یو رکعات یوازی ویلی دی او په هغه کی مو درود وغیره هرڅه ویلی دی.
جواب: چی دامام سره څوك تشهد وایی نوصرف دالتحیات ویلو څخه وروسته دی خاموش ناست اوسی. بیاچی کله باقی مانده یورکعات اداء کوی نوهغه وخت دی هرڅه (۳) ووایی. فقط
چی مسبوق په هیره سره سلام وګرزوی بیا دچا په وریادولو سره ولاړسی اولمونځ پوره کړی نولمونځ یی صحیح سو اوکه نه؟ سوال: (۱۲۸۱) که چیری مسبوق دامام سره بغیر دارادی دواړه طرفته سلام وګرزوی، اوپه لمانځه کی شامل خلګ هغه ته ووایی، چی تاته لمونځ

---

(۱). انه اذا ادرك الامام فی القراءة فی الرکعة التی یجهر فیها لا یاتی بالثناء (الی قوله) فاذا قام الی قضاء ما سبق یاتی بالثناء یتعوذ للقراءة الخ وفی صلاة المخافتة یاتی به هکذا فی الخلاصة (عالمگیری کشوری ص ۹۰ ج ۱). ظفیر

(۲). والمسبوق من سبقه الامام بها اوببعضها وهومنفرد حتی یثنی ویتعوذ (الی قوله) فیمایقضیه الخ حتی یثنی الخ تفریع علی قوله منفرد فیما یقضیه بعد فراغ امامه فیاتی بالثناء والتعوذ لانه للقراءة ویقرأ لانه یقضی فی حق القراءة کما یاتی (ردالمحتار ص ۵۵۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۲). ظفیر

(۳). ومن جملتها انه قیل اذا فرغ من التشهد قبل سلام الامام یکرره من اوله وقیل یکرر من کلمة الشهادة وقیل یسکت وقیل یاتی بالصلوة والدعاء والصحیح انه یترسل لیفرغ من التشهد عند سلام الامام (غنیة المستملی ص ۴۴۱). ظفیر

پاته دی، هغه اداء کړه. نوددی سړی لمونځ به صحیح سی اوکه نه؟

جواب: که چیری دغه مسبوق دچا په وریادولو اوویلو سره ولاړ سو اودهغه په وریادولو سره ورته پخپله هم یادسو اوپه همدی بناء باندی هغه ولاړ سو، نودسجده سهوی کولو سره دهغه لمونځ صحیح سو. (۱) اوپه داسی حالت کی همدغه شان کول پکاردی چی که چیری بل سړی یې وریادکړی نوپخپله دی رایاد کړی اوپه خپل یاد سره دی هغه کار وکړی. دپاره ددی چی په لمانځه کی یې څه خلل رانسی. (۲) فقط

مسبوق دامام دمخکنی سلام څخه وروسته ودریږی اوکه ددوهم څخه وروسته؟ سوال:

(۱۲۸۲) مسبوق به دباقی رکعاتونو اداء کولو دپاره دامام دمخکنی سلام گرځولو څخه وروسته دریږی، اوکه ددواړو سلامونه گرځولو څخه وروسته؟

جواب: دواړه طرفته دسلام گرځولوڅخه وروسته دریدل ښه دی. دپاره ددی چی که چیری پر امام باندی سجده سهوه وی نوده ته به بیا راگرځیدل نه (۳) وی. فقط

چی مسبوق دمسافر امام اقتداء وکړی نوهغه به خپل باقی لمونځ څنگه پوره کوی؟ سوال:

(۱۲۸۳) چی په مسافر امام پسی مقتدی یورکعات ونیوی، یاقعده یې ونیوله، یعنی باقی لمونځ به څنگه پوره کوی؟

جواب: دغه مقتدی دی مخکی دوه رکعاته تش وکړی اوبیادی یورکعات په قرآئت سره وکړی. یعنی چاته چی یورکعات حاصل سوی دی هغه دی دامام دسلام څخه وروسته

---

(۱). ان تابع والالا، ولوسلم ساهیًا ان بعد امامه لزمه السهو والا، لا (درمختار) وَفِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ عَنْ الْمُحِيطِ إنْ سَلَّمَ فِي الْأُولَى مُقَارِنًا لِسَلَامِهِ فَلَا سَهْوَ عَلَيْهِ لِأَنَّهُ مُقْتَدٍ بِهِ ، وَبَعْدَهُ يَلْزَمُ لِأَنَّهُ مُنْفَرِدٌ ا هـ ثُمَّ قَالَ : فَعَلَى هَذَا يُرَادُ بِالْمَعِيَّةِ حَقِيقَتُهَا وَهُوَ نَادِرُ الْوُقُوعِ . ا هـ قُلْت : يُشِيرُ إلَى أَنَّ الْغَالِبَ لُزُومُ السُّجُودِ لِأَنَّ الْأَغْلَبَ عَدَمُ الْمَعِيَّةِ (ردالمحتار. باب الامامة ص **۵۲۰** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۹۸**). ظفیر

(۲). حتٰی لوامتثل امره فقیل له تقدم فتقدم اودخل فرجة الصف احد فوسع له فسدت بل یمکث ساعة ثم یتقدم برائة قهستانی (درمختار) المعتمد فیه عدم الفساد (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ویکره فیها ص **۵۸۱** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۲۲۲). ظفیر

(۳). وینبغی ان یصیر المسبوق حتی یفهم انه لا سهو علی الامام (درمختار) ای لا یقوم بعد التسلیمة او التسلیمتین بل ینتظر فراغ الامام بعدها ؒ قال فی الحلیة ولیس هذا بملازم بل المقصود ما یفهم ان لا سهو علی الامام اویوجد له ما یقطع حرمة الصلاة (رد المحتار باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق واللاحق. ص **۵۵۹** ج۱ ، ط. س. ج۱ ص **۵۹۷**) وتنقطع التحریمة بتسلیمة واحدة برهان وقدمر (درمختار) ای فی الواجبات حیث قال تنقضی قدوة بالاول قبل علیکم علی المشهور عندنا خلاف للتکملة اه (ردالمحتار فصل تالیف الصلاة ص ۴۹۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۲۵**) ددی څخه معلومه سوه چی دمخکی سلام څخه وروسته هم ولاړیدی سی. خو ښه داده چی ددوهم سلام څخه وروسته ولاړ سی. ظفیر غفرله

یورکعات تش وکړی اوقعده دی وکړی بیادی ولاړسی اویو رکعات دی تش وکړی. او آخری رکعات دی په قرآئت سره پوره کړی ولی چی دی په حکم کی دلاحق مسبوق دی. وتفصیله فی الشامی [1]. فقط

دمسبوق اقتداء درسته نه ده: **سوال**: (۱۲۸۴) یوسړی دجمعی په لمانځه کی په دریم، یا څلورم رکعات کی شامل سو، دلمانځه ختمیدلو څخه وروسته دی سړی مثلاً زید خپل لمونځ پوره کوی چی عمر راغی زیدیی خپل امام کی، اوهغه دخپل لمانځه پوره کولو څخه وروسته سلام وګرزوی. نودا جماعت به درست وی، اوکه نه؟

جواب: کم سړی چی په دریم یاڅلورم رکعات کی دامام سره شامل سو اودامام اقتداء یی وکړه، هغه ته مسبوق وایی. کم وخت چی هغه دخپل باقی مانده لمونځ دپوره کولو دپاره ودریدی نوپه هغه پسی دهیچا اقتداء کول درست نه دی. لایجوز الاقتداء [2] به. فقط

چی امام داودس ماتیدلو په وجهی سره مسبوق خلیفه جوړکی نوهغه به لمونځ څنګه پوره کوی؟ **سوال**: (۱۲۸۵) امام دماپښین لمونځ ورکوی، په هغه پسی چی کم سړی وو دهغه اودس مات سو. چی هغه اودس وکی اوراغی نوامام یورکعات کړی وو. کله چی دغه سړی راغی اوشامل سو، نودامام اودس مات سو، هغه دغه سړی خپل خلیفه ودروی او ولاړی داودس کولو دپاره. که چیری هغه دمقتدیانو لمونځ پوره کوی نوخپل یی دری کیږی. که خپل لمونځ پوره کوی نودمقتدیانو پنځه کیږی، نوڅه کول پکاردی؟

جواب: دکم مقتدی چی اودس مات سو اوهغه داودس کولو دپاره ولاړی. اودهغه څخه یو رکعات فوت سو، نوهغه لاحق دی. هغه ته حکم دادی چی کم وخت دی خپل مخکی فوت سوی رکعات وکی نوبیا دی دامام سره شریك سی. نوکه چیری هغه داسی وکړل نو دهغه لمونځ دامام سره برابرسو. اوکه چیری هغه خپل فوت سوی رکعات مخکی اداء نه

---

[1]. ومقیم ائتم بمسافر وکذا بلا عذر بان سبق امامه فی رکوع وسجود فانه یقضی رکعة وحکمه کمؤتم فلایاتی بقراءة ولا سهو ﷺ ویبدء بقضاء ما فاته عکس المسبوق (الدر المختار) وهذا بیان للقسم الرابع وهو المسبوق اللاحق وَحُكْمُهُ أَنَّهُ يُصَلِّي إذَا اسْتَيْقَظَ مَثَلًا مَا نَامَ فِيهِ ثُمَّ يُتَابِعُ الْإِمَامَ فِيمَا أَدْرَكَ ثُمَّ يَقْضِي مَا فَاتَهُ . اهـ . بَيَانُهُ كما فی شرح المنية وشرح المجمع انه لو سبق برکعة من ذوات الاربع ونام فِي رَكْعَتَيْنِ يُصَلِّي أَوَّلًا مَا نَامَ فِيهِ ثُمَّ مَا أَدْرَكَهُ مَعَ الْإِمَامِ ثُمَّ مَا سُبِقَ بِهِ فَيُصَلِّي رَكْعَةً مِمَّا نَامَ فِيهِ مَعَ الْإِمَامِ وَيَقْعُدُ مُتَابَعَةً لَهُ لِأَنَّهَا ثَانِيَةُ إمَامِهِ ثُمَّ يُصَلِّي الْأُخْرَى مِمَّا نَامَ فِيهِ ، وَيَقْعُدُ لِأَنَّهَا ثَانِيَتُهُ ثُمَّ يُصَلِّي الَّتِي انْتَبَهَ فِيهَا ، وَيَقْعُدُ مُتَابَعَةً لِإِمَامِهِ لِأَنَّهَا رَابِعَةٌ ، وَكُلُّ ذَلِكَ بِغَيْرِ قِرَاءَةٍ لِأَنَّهُ مُقْتَدٍ ثُمَّ يُصَلِّي الرَّكْعَةَ الَّتِي سُبِقَ بِهَا بِقِرَاءَةِ الْفَاتِحَةِ وَسُورَةٍ. (ردالمحتار باب الامامة مطلب فی المسبوق واللاحق ص ۵۵۲ – ۵۵۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۴). ظفیر

[2]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة مطلب فی احکام المسبوق واللاحق ص ۵۵۸ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۷ . ظفیر

کی، اودامام سره شریك سو اوبیا دامام اودس مات سو اوهغه دالاحق (سړی) امام جوړ کی نوهغه ته پکاردی چی کم وخت دامام ځلور رکعاته پوره سی نودا سړی دی یو مدرك (یعنی ټول لمونځ نیوونکی) خلیفه جوړ کړی ځوك چی داول څخه دامام سره شریك وو. هغه به سلام وګرزوی اودا سړی به ولاړیږی خپل فوت سوی رکعات به پوره کوی. (۱)

که ځوک دمازیګر یاماښام په آخری رکعات کی شریک سو نوباقی لمونځ به څنګه پوره کوی؟ **سوال**: (۱۲۸۶) که چیری یوسړی دمازیګر یاماښام په لمانځه کی دامام سره په آخری رکعات کی شامل سو نوکم باقی رکعاتونه چی یوازی کوی په هررکعات کی به التحیات وایی اوکه څنګه؟

جواب: دماښام په لمانځه کی به همداسی کیږی چی کله ورته دامام سره یورکعات آخری حاصل سو نوپه باقی دواړو رکعاتونو کی به کښېنستل اوالتحیات ویل وی. اودمازیګر په لمانځه کی به دامام دسلام څخه وروسته یورکعات وکړی اودرمیانه قعده به وکړی. او بیابه دوه رکعاته وکړی اوپه آخری کی به کښېنستل (۲) وی.

که یورکعات یې ونیوی نوباقی رکعاتونه څه رکم پوره کړی، تعوذ اوالتحیات به چیری وایی؟

سوال: (۱۲۸۷) جمعه ولاړه ده. اومقتدی وروسته راغی شامل سو. امام صاحب دری رکعاته کړی دی، مقتدی په یورکعات کی شامل سو، نوهغه به باقی لمونځ څنګه کوی. مثلاً دمازیګر په لمانځه کی یورکعات یې ونیوی اوس به دری رکعاته څنګه اداء کوی. اَعُوْذُ به څه رکم اوپه کم رکعات کی وایی. آیاپه دوهم رکعات به التحیات وایی، اوکه په یوه کی اعوذ بالله ووایی اوپه دوهم کی التحیات ووایی اوکه څه رکم یې ووایی؟

جواب: کم سړی چی په ځلور رکعاته لمانځه کی مثلاً ماپښین یامازیګر کی یورکعات دامام سره ونیوی نودغه سړی به دامام دسلام ګرځولو څخه وروسته خپل باقی رکعاتونه په داشان اداءکوی چی ولاړبه سی اوداعوذ اوسبحانك اللهم ویلوڅخه وروسته به الحمد اوسورة په دغه رکعات کی ووایی اورکوع اوسجده به وکړی اوکښې به نی او التحیات دی ووایی، نو ولاړدی سی الحمد اوسورة دی ووایی، رکوع اوسجده دی وکړی. دا دده

(۱). ولواستخلف الامام مسبوقًا اولاحقًا اومقیما وهو مسافرصح والمدرك اولی الخ فلو اتم المسبوق صلاة الامام قدما مدركا للسلام الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاستخلاف ص **۵۷۱** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۹۷**). ظفیر

(۲). والمسبوق من سبقه الامام بها اوببعضها وهو منفرد حتٰی یثنی ویتعوذ ویقرا الخ فیما یقضیه الخ ویقضی اول صلاته فی حق قرآئت واٰخرها فی حق تشهد فمدرك رکعة من غیر فجر یاتی برکعتین بفاتحة وسورة وتشهد بینهما وبرابعة الرباعی بفاتحة فقط ۞ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام المسبوق ص **۵۵۷** ج۱ ، ط.س. ج۱ ص **۵۹۲**). ظفیر

دریم رکعات سو. دسجدی څخه وروسته دی فوراً ولاړسی څلورم رکعات دی صرف په الحمد سره وکړی، داڅلورم رکعات سو. چی رکوع اوسجده وکړی دالتحیات اودرود شریف اودعا ویلو څخه وروسته دی سلام وګرزوی. (۱)

چی په دوهم رکعات کی شامل سو نومخکی رکعات څه رکم اداء کړی، قرآئت به کوی اوکه نه؟

سوال: (۱\۱۲۸۸) په دوهم رکعات کی دامام سره مقتدی په جماعت کی شامل سو، کم یورکعات چی به مقتدی دامام دسلام دګرځولو څخه وروسته کوی په هغه کی به څه وایی اوکه نه؟

چی په دریم رکعات کی شریک سو نوپه باقی رکعاتوکی به هغه قرآئت وایی اوکه نه؟ سوال:

(۲\۱۲۸۹) مقتدی په دریم رکعات کی شامل سو، دامام سره یی یورکعات وکی امام سلام وګرزوی، مقتدی چی ولاړیږی، نوڅه به وایی اوکه نه؟ اوپه دریم اوڅلورم کی به هم څه وایی اوکه نه؟

جواب: (۱) په هغه کی به الحمد اوسورة وایی.

(۲) که په دریم رکعات کی مقتدی دامام سره شامل سو نودهغه دوه رکعاته فوت سول. دامام دسلام ګرځولو څخه وروسته به ولاړیږی اودواړه رکعاتونه دی دالحمد اوسورة سره وکړی (۲).

که څوک په دوهم رکعات کی شریک سو خودامام سره یی سلام وګرزوی، نواوس څه وکړی؟

سوال: (۱۲۹۰) یوسړی په دوهم رکعات کی دامام سره شریك سو چی امام سلام وګرزوی نوده هم وګرزوی. وروسته ورته یادسو نواوس باقی رکعات کولی سی اوکه نه؟

جواب: که چیری مسبوق سهواً دامام سره سلام وګرځوی برابره خبره ده که یوه طرفته وی یا دواړو طرفوته، په داشان چی دمسبوق سلام دامام دسلام څخه لږ وروسته واقع سو، څنګه چی عادت دی، نومسبوق ولاړیدی سی اوخپل باقی رکعاتونه پوره کولی سی، لمونځ دهغه فاسدنه سو. (وان سلم (ای المسبوق) بعده (ای بعد الامام) لزمه (سجود السهو) لکونه منفرداً (۳) حینئذ. بحر شامی.

---

(۱). والمسبوق من سبقه الامام بها اوببعضها وهو منفرد حتٰی یثنی ویتعوذ ویقرا الخ فیما یقضیه الخ ویقضی اول صلاته فی حق قرآئت واٰخرها فی حق تشهد فمدرك رکعة من غیر فجر یاتی برکعتین بفاتحة وسورة وتشهد بینهما وبرابعة الرباعی بفاتحة فقط ؎ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام المسبوق ص ۵۵۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۶). ظفیر

(۲). والمسبوق من سبقه الامام بها اوببعضها وهو منفرد حتٰی یثنی ویتعوذ ویقرا الخ فیما یقضیه الخ ویقضی اول صلاته فی حق قرآئت واٰخرها فی حق تشهد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام المسبوق الخ ص ۵۵۷ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۵۹۶). ظفیر

امام په رکوع کی وو چی یوسړی راغی نوهغه په تکبیر تحریمه سره رکوع ته ولاړ سی اوکه درکوع تکبیر هم ووایی؟ سوال: (۱۲۹۱) امام په رکوع کی دی چی یوسړی راغی، نو آیا هغه په تکبیر تحریمه ویلو سره رکوع ته ولاړسی اوکه دتکبیر تحریمه څخه وروسته بیا درکوع تکبیر ووایی؟

جواب: دتکبیر تحریمه ویلو څخه وروسته بیاپه دوهم تکبیر ویلو سره رکوع ته تلل پکار دی. داطریقه مسنونه ده. لیکن که چیری صرف په تکبیر تحریمه ویلو سره ددوهم تکبیر څخه بغیر رکوع ته ولاړی اوداما‌م سره شریك سو نوهغه رکعات ده ونیوی اولمونځ یی هم صحیح سو. (۱)

چی په رکوع کی شریک سی نودتحریمی څخه وروسته لاسونه وتړی بیا رکوع وکړی او که دلاسونو تړلو څخه بغیر رکوع ته ولاړسی: سوال: (۱۲۹۲) امام په رکوع یاسجده کی دی، یوسړی راغی نودی به دتکبیر تحریمه ویلو څخه وروسته لاسونه تړی بیابه رکوع یا سجدی ته ځی اوکه دلاسونو تړلو څخه بغیر به ځی؟

جواب: دتکبیر تحریمه ویلو څخه وروسته لاسونه تړل مسنون دی. که چیری لاسونه یی ونه تړل او همداسی رکوع یاسجدی ته ولاړی نولمونځ صحیح دی. (۲)

مسبوق سلام وګرزوی او دعایی وکړه بیا چا ورياد کړل، نوڅه وکړی؟ سوال: (۱۲۹۳) یوه ورځ دماخستن په جمعه کی زه په دوهم رکعات کی شریك سوم، خو دامام سره می دواړه طرف ته سلام وګرزوی، لمونځ می ختم کی اودعامی وغوښته. خوهمدغه وخت یوبل مقتدی چاچی خپل لمونځ دامام سره پوره کړی وو ماته یی وویل چی ته ولاړسه لمونځ پوره کړه. نوکه چیری په دی حالت کی زه دریدلی وای اولمونځ می پوره کړی وای نو لمونځ به می سوی وای اوکه نه؟ اوپه کم صورة کی چی ما دهغه خبره ونه منله بلکی دنوی سره می څلور رکعاته فرض اداء کړل، نودا لمونځ صحیح سو اوکه نه؟ زما دنه منلو وجه داسوه چی په زړه کی می داخیال اوشبهه پیداسوه چی دلمانځه څخه په خارج فتحی ورکولو سره لمونځ فاسدیږی.

---

(۳). ردالمحتار باب سجود السهو ص ۲۹۲ ج۱ ، ط.س. ج۲ ص ۸۳. ظفیر

(۱). وسننها رفع الیدین للتحریمه فی الخلاصه ان اعتاد ترکه اثم الخ ووضع یمینه علی یساره الخ وتکبیره الرکوع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة صفة الصلوٰة مطلب سنن الصلوٰة ص ۴۴۳ ج۱ ، ط. س. ج۱ ص ۴۷۲). ظفیر

(۲). وسننها رفع الیدین للتحریمة الخ ووضع یمینه علی یساره تحت سرته وتکبیرة الرکوع (کنز) لماروی انه ﷺ کان یکبرعند کل رفع وخفض (البحر الرائق. باب صفة الصلوٰة ص ۳۲۰ ج۱ ، ط.س. ج۱ ص ۳۰۲) ظفیر.

جواب: كه چيرى ددغه سړى دوينا څخه وروسته په سوچ سره پخپله ورياد سوى وى چى زما يوركعات بيشكه پاته دى اوپردى بنا باندى ولاړ سوى وى اوديو ركعات پوره كولو څخه وروسته سجده سهوه سوى وى نولمونځ به سوى واى ولى چى دا امتثال دغير شخص نه دى بلكى كله چى پخپله ورته ياد سو نوهمدى طرف ته به دريدل منسوب كيږى. په درمختار كى دى حتى لوامتثل امر غيره فقيل له تقدم فتقدم اودخل فرجة الصف احد فوسع له فسدت بل يمكث ساعة ثم يتقدم برايه. اوپه شامى كى يى دعدم فساد تصحيح كړيده وقدمنا عن الشرنبلالى عدم الفساد وتقدم تمام الكلام عليه ([1]) الخ. (شامى جلد اول)

مسبوق به په قعده كى دامام سره څه وايى اودامام سره به سجده سهوه كوى اوكه نه؟ سوال:

(۱۲۹۴) مسبوق ته دامام سره په قعده كى څه ويل پكاردى. اوكه چيرى امام سجده سهوه وكړى نو آيا مسبوق به يى هم كوى؟

جواب: امام چى كله په مخكنى قعده كښينى نودى هم كښينى اوالتحيات دى ووايى. امام كه چيرى سجده سهوه وكړه نودى هم ورسره سجده وكړى. خوسلام دى نه ګرزوى. ([2]).

الباب السادس فى الحدث فى الصلاة

كه دلمانځه دوران كى اودس مات سى، نو څه كول پكار دى

كه په لمانځه كى امام بى اودسه سى نوخليفه جوړول درست دى، ضرورى نه دى: سوال:

(۱۲۹۵) كه په لمانځه كى امام بى اودسه سى نودفقهى په كتابونو كى ليكلى دى چى خليفه جوړول جائزدى. چونكى دامسئله نادر الوقوع (يعنى ډيره كمه پيښيدونكى) ده. اكثره خلګ ددى څخه ناخبره دى نوامام ته خليفه جوړول ګران وى. په داسى حالت كى څه كول پكاردى؟

جواب: دفقهى په كتابونو كى يى دحدث لاحق كيدلو په صورة كى خليفه جوړول جائز ليكلى دى ضرورى نه دى. اودايى هم ليكلى دى چى استيناف (يعنى لمونځ بيا دسره كول) مناسب دى دپاره ددى چى خلګ په غلطى كى ونه لويږى. نومخكى دى لمونځ قطع كړى او (دلمانځه) منافى څه عمل دى وكړى. بيادى اودس وكړى او دنوى سره دى شروع

([1]). ردالمحتار باب مايفسد ومايكره فيها ص ۳۸۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص ۴۲۲. ظفير.

([2]). والمسبوق يسجد مع امامه مطلقا سواء كان السهو قبل الاقتداء اوبعده ثم يقضى مافاته (درمختار) قيد بالسجود لانه لايتابعه فى السلام بل يسجد معه ويتشهد (ردالمحتار باب سجود السهو ص ۲۹۵ - ۵۹۲ ج۱، ط.س. ج۲ ص ۸۲ - ۸۳). ظفير

وکړي. (۱)

مسبوق خلیفه جوړیدلی سي: **سوال**: (۱۲۹۲) څلور مقتدیان دی اوپنځم امام لمونځ ورکوی، اومقتدیان جاهلان دی. یوتعلیم یافته مقتدی هم راغی په جمعه کی شامل سو. دامام اودس مات سو نواوس په دی پنځو واړو مقتدیانو کی کم یوامام جوړسی. اوکم چی تعلیم یافته دی هغه ته یویادوه رکعاته نه دی حاصل سوی.

جواب: کم ویونکی سړی چی وروسته په جمع کی شامل سوی دی، هغه دی امام جوړسی. اودسلام په وخت کی دی هغه یو داسی سړی په خپل ځای امام جوړکړی دچاچی لمونځ پوره سوی دی، هغه دی سلام وګرزوی اودی دی ولاړسی، خپل باقی مانده رکعاتونه دی پوره کړی. کذا فی الدر المختار. (۲) فقط

که دمخکنی صف دمقتدی اودس مات سی نوهغه به څنګه وزی؟ **سوال**: (۱۲۹۷) که په جمعه کی دوه دری سوه سړی وی اودټولو څخه په مخکی صف کی دچا اودس مات سی دلمانځه په دوران کی نوهغه څنګه راوتلی سی اوامام څنګه بدلیدلی سی؟

جواب: صفونه دی څیری کړی ودی وزی. اوامام دی په مقتدیانو کی بل سړی دلاس څخه ونیسی اوپه خپل ځای دی یی ودروی (۳). فقط

که دسجدی په حالت کی دامام اودس مات سی، نوخلیفه څه وکړی؟ **سوال**: (۱۲۹۸) که چیری دسجدی په حالت کی دامام اودس مات سی، نوخلیفه څه رکم مصلی ته راسی؟

جواب: په دی صورة کی دی خلیفه مصلی ته راسی اودهمدغه سجدی څخه دی شروع وکړی اوکم امام چی په سجده کی بی اودسه سوی وی هغه دی په خپل تندی باندی لاس کښیږدی دپاره ددی چی خلیفه پوه سی چی امام ته بی اودسی په سجده کی سویده. دغه سجده بیاکول پکاردی. کمافی الدر المختار. ولیضع یده علی رکبتیه لترك رکوع وعلی جبهته للسجود (۴) الخ. فقط

که چیری دسورة ویلو په وخت کی دامام اودس مات سی او خلیفه ته هغه سورة یاد نه وی نو څه دی وکړی؟ **سوال**: (۱۲۹۹) امام مثلاً یوسورة ووایه چی دهغه اودس مات سو. اوس

(۱). استخلف ای جاز له ذالك ولو فی جنازة باشارةٍ اوجرٍّ لمحراب (درمختار) وظاهر المتون ان الاستخلاف افضل فی حق الکل (رد المحتار. باب الاستخلاف ص ۵۲۲ ج۱) ظفیر.

(۲). ولواستخلف الامام مسبوقا الخ صح الخ فلواتم المسبوق صلاة الامام قدم مدرکا لسلام (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاستخلاف ص ۵۷۱ ج۱) ظفیر.

(۳). سبق الامام حدث الخ غیر مانع الخ استخلف ای جازله ذالك ولوفی جنازة باشارة اوجر لمحراب الخ (در مختار) قوله استخلف اشار ان الاستخلاف حق الامام (ردالمحتار باب الاستخلاف ص ۵۲۱ – ۵۲۲ ج۱).

(۴). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاستخلاف فی الصلوة ص ۵۲۲ ج۱ . ظفیر

کم مقتدی چی دهغه خلیفه جوړسوی دی هغه ته دغه سورة یاد نه دی کم چی امام وایه، نو اوس هغه څه وکړی؟

جواب: هغه دی بل یوسورة ووایی اورکوع دی وکړی. داضروری نه دی، چی همدغه سورة دی ووایی بلکی که چیری هغه امام په قدر دواجب قرآئت ویلی وی نودا خلیفه دهغه ځای ته دورتللو څخه وروسته فوراً رکوع ته تللی سی (١). فقط

تم النصف الأول من كتاب الصلٰوة بعون الله تعالٰی، وحسن توفيقه ويليه النصف الثانى من باب ما يفسد الصلٰوة وما يكره فيها.

رب اوزعنى ان اشكر نعمتك التى انعمت علىّ وعلٰى والدى وان اعمل صالحًا ترضاه واصلح لى فى ذريتى انى تبت اليك وانى من المسلمين. وتقبل منى هٰذا العمل وجنبنى فيه عن الخطاء والنسيان واجعله ذريعة للفلاح والنجاح فى الدنيا ووسيلة للنجاة فى الاٰخرة.

فالحمد لله الذى تم بتوفيقه هٰذالجزء على يد افقر العباد الى رحمته محمد ظفير الدين المفتاحى تحت اشراف حفيد المؤسس حكيم الاسلام مولانا القارى الحافظ محمد طيب النانوتوى ثم الديوبندى مدير دارالعلوم الواقعة فى ديوبند (الهند) لتسعة خلت من ربيع الثانى سنة ١٣٨٣ ثلث وثمانين وثلثمائة والف من هجرة النبى الكريم ﷺ .

دریم جلد تمام سو ، والحمد لله رب العالمين

تاريخ : الخميس، ٢٦ شعبان ، ١٤٢٩ هـ



(١). من سبقه الحدث توضا وبنٰى اواستخلف لو اماما (كنز) فانه يستخلف رجلا مكانه ياخذ يثرب الرجل الى المحراب او يشير اليه ﴿ ولو ترك ركوعا يشير بوضع يديه على ركبتيه او سجودا يشير بوضعها على جبهته او قراءة يشير بوضعها على فمه ﴿ هذا اذا لم يعلم الخليفة ذلك اما اذا علم فلا حاجة الى ذلك (البحر الرائق باب الحدث فى الصلوة ص ٣٨٩ - ٣٩١ ج١). ظفير

غاية التحقيق ونهاية التدقيق

﴿ في تحقيق مسئلة اقتداء الحنفي بالشافعي ﴾



غاية التحقيق ونهاية التدقيق

﴿ في تحقيق مسئلة اقتداء الحنفي بالشافعي ﴾

المؤلف:
العالِم العلامة والحبر البحر الفهّامة الشيخ
رحمة الله بن القاضي عبد الله الحنفي السِّندي ثم المكّي رحمه الله المتوفى سنة ٩٧٨ هـ (٩٩٣)
من تلامذة العلامة المحقق شيخ الإسلام الإمام إبن الهمام صاحب فتح القدير شرح الهداية

قَدَّم له وحقَّقه وعلَّق عليه
الأستاذ محمَّد أحمد الحقّانِي الأفغاني

﴿ يُطبع للمرَّة الأولى من النسخة المخطوطة ﴾

المكتبة الحبيبية
بشارع كاسي، كوئته، باكستان

الطبعة الأولى

١٤٢٩هـ - ٢٠٠٨م

Maktabah Habibiyah المكتبة الحبيبية

Publishing Organization للطباعة والنشر

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Ph : 0812662448 : بشارع كاسى، كوئته، باكستان. الهاتف

AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 : إخراج وتحسين: ادارة العلم للكمبيوترز. الهاتف



الحمد لله رب العالمين ، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين ، وعلى آله الطيبين وأصحابه الطاهرين ، وعلى كل من اتبعهم بإحسان إلى يوم الدين . أما بعد :

إخوانى فى الله رحمكم الله تعالى ، إليكم هذا الأثر الصغير الحجم ، كبير المنفعة من تراثنا الإسلامى الضخم ، لا زال مخطوطا ومحفوظا فى المكتبات الخاصة بالمخطوطات ، فوَّزنى الله تعالى بالحصول عليه ، فبادرت إلى نشره ([1]) فى الحلية القشيبية الفخيمة ، خدمة للعلم وأهله ، وإبتغاء لرضاء الله تعالى ووجهه العظيم. والله الموفق وهو المستعان .

والمذكور عبارة عن الرسالة العلمية فى المسئلة الدقيقة أعنى فى بيان إقتداء الحنفية بالشافعية والخلاف فى ذلك ، وهو مشتمل على الأوراق المعدودة ، تصنيف العالِم العلامة والحبر البحر الفهامة الشيخ رحمة الله بن عبد الله السندى ثم المكى الحنفى رحمه الله تعالى المتوفى على القول الراجح فى سنة ٩٧٨ هـ وهو من تلامذة الشيخ الإمام العمدة شيخ الإسلام الإمام إبن الهمام رحمه الله تعالى ونفعنا به. آمين

وأردت ان أكتب قبل البداية فى الكتاب مقدمة وجيزة حول المصنِّف والمصنَّف ، تبصرة للقارئين :

المبحث الأول : الترجمة الوجيزة للمؤلف رحمه الله .

المبحث الثانى : البحث المختصر من النسخة المخطوطة .

وكتبه : محمّد أحمد الحقّانى الأفغانى ، بكوئتا ، باكستان

* * *

([1]) لما كان الكتاب عبارة عن الورقات المعدودة فلذا أخترت أن ينشر ضمن الكتاب الآخر من علم الفقه .

الترجمة الوجيزة للمؤلِّف رحمه الله ([1])

هو رحمة الله بن عبد الله بن إبراهيم السندى ، فقيه حنفىّ ، من أهل السند. ولد بها فى حدود سنة ثلاثين وتسعمائة ([2]) وهاجر إلى الحرمين الشريفين ، فأقام بالمدينة المنوّرة وتوفى بمكة عن ٦٠ عامًا ونيف سنة ٩٧٨ ([3])

([1]) ترجمته في :

شذرات الذهب لإبن العماد الحنبلى ج ١٠ ص ٥٦٥ (وفيات سنة ٩٧٨)

الأعلام للزركلى ج ٣ ص ١٩

الإعلام بتصحيح الأعلام للأخ المحترم محمّد الرشيد ص ٦١ (تصحيح الجزء الثالث)

معجم المؤلفين لكحالة ج ١ ص ٧١٢

الكواكب السائرة للغزّى ج ٣ ص ١٣٦ (حرف الرآء من الطبقة الثالثة)

النور السافر لعيدروس ص ٤٣٩ - ٤٤٠

كشف الظنون لحاجى خليفة ص ١٥٤٥ ، ١٨٣١ (فى المجلّد الثانى)

إيضاح المكنون لإسماعيل باشا ج ١ ص ١٧ ، ج ٢ ص ٤٠٠

هدية العارفين ج ١ ص ٣٦٦

معجم المطبوعات العربية ليوسف سركيس ص ٩٣٠

([2]) أطلع على سنة ولادته الأخ المحترم محمد بن عبد الله الرّشيد حفظه الله (التلميذ الخاص للشيخ العلامة عبد الفتاح أبى غدّة رحمه الله المتوفى سنة ١٤١٩ هـ) حيث كشف عن نقابها فى كتابه النافع (الإعلام بتصحيح الأعلام) ص ٦١.

([3]) كما ذكره الغزّى فى الكواكب ج ٣ ص ١٣٦ وتابعه إبن العماد فى الشذرات ج ١٠ ص ٥٦٥ فى وفيات سنة ٩٧٨ ولكن اختلط عليه الأمر فعدّه شخصان مختلفان حيث ذكره ثانيا فى ص ٦٣١ من هذا المجلّد وفيات سنة ٩٩٣ وذكر الأول بحوالة الكواكب السائرة وقال معه نزيل مكّة ، ثم جاء ونسى ما قدّمت يداه فذكره ثانيا بحوالة النور السافر وقال معه نزيل المدينة المشرّفة ، بدون تغيير فى كلا الموضعين لا فى إسم العلامة السندى نفسه ولا فى إسم أبيه ولا فى النسبة الى السند فقد قال فى كلا الموضعين: رحمة الله بن قاضى عبد الله السندى الحنفى (أولاً) و: رحمة الله بن عبد الله السندى الحنفى (ثانيًا، بدون لفظ القاضى مع إسم أبيه) .

ولم ينبّه على هذه اللطيفة لا الذى أشرف على تحقيق الكتاب وتخريج أحاديثه أعنى الأخ عبد القادر الأرناؤوط (حفظه الله) ولا الذى حقّقه وعلّق عليه أعنى الأخ محمود الأرناؤوط (حفظه الله) ، ورأيت هذا فى طبعة دار إبن كثير ، الطبعة الأولى سنة ١٩٩٣ ع ، وأنّما رأيت التنبيه على هذه الخطيئة فى تعليقات الأخ خليل المنصور (حفظه الله) على كتاب (الكواكب السائرة بأعيان المائة العاشرة) للشيخ نجم الدّين محمّد بن محمّد الغزّى رحمه الله ، المجلّد الثانى من الكتاب ، الجزء الثالث، =

أو سنة ٩٩٣ . (١)

وذكروا فى تصنيفاته :

جمع المناسك تسهيلاً للناسك . غاية التحقيق ونهاية التدقيق في الإقتداء بالشافعية ﴿ وهى رسالتنا هذه التى نقوم بنشره ﴾ (٢) . لباب المناسك وعباب المسالك. مجمع المناسك ونفع الناسك .

وهناك يقولون الفقهاء الحنفية (٣) وغيرهم فى النقل عن تصنيفات السندى رحمه الله أنّه تلميذ الإمام الحنفى العلامة محمد بن عبد الواحد بن عبد الحميد إبن مسعود السيواسى الإسكندرى ، كمال الدّين ، المعروف بإبن الهمام ، صاحب الكتب الشهيرة كفتح القدير للعاجز الفقير شرح الهداية ، والتحرير فى أصول الفقه ، والمسايرة فى العقائد المنجية فى الآخرة ، وغيرها من الكتب المعتمدة المتداولة بين العلماء والطلباء .

ولكن لم يذكر له أحد من المؤرخين والمترجمين شرف التلمّذ هذا فى كتبهم ، مع العلم بأن الإمام إبن الهمّام رحمه الله أقدم وفاةً منه ولادةً ، فكيف يمكن التلمّذ مباشرة بدون الواسطة ، فان الإمام المذكور توفى سنة ٨٦١ هجرية اتفاقا بين المؤرخين ، والمؤلف رحمه الله ولد تقريبًا فى حدود ثلاثين وتسعمائة ٩٣٠ ، كما ذكره فى (الإعلام بتصحيح كتاب الأعلام) ص ٦١ ، فالتوجيه (والله أعلم بحقيقة الحال) أن مراد هذه الفقهاء كونه تلميذا للإمام إبن الهمام رحمه الله بالواسطة . ويؤيد هذا تقرّبه الى عصر إبن الهمام رحمه الله . والله أعلم

= (الخاص بالطبقة الثالثة) ، حرف الراء ، صفحة ١٣٦ ، تعليق رقم = ٢ ، الطّبعة الأولى ، سنة ١٩٩٧ع ، دار الكتب العلمية.

(١) كما ذكره عبد القادر العيدروس فى النور السافر ص ٤٣٩ - ٤٤٠ ، وتابعه الزركلى فى الأعلام ج ٣ ص ١٩ .


(٢) وقد ذكره الزركلى فى تصنيفاته ووصّفه بالرسالة ، وقال فيه الغزّى وكحالة : غاية التحقيق ونهاية التدقيق في مسائل ابتلى بها أهل الحرمين الشريفين . انتهٰى ، ويوضح من هذا أن المصنِّف رحمه الله كان يزور كلا البلدين المكرّمين قد يكون زائرا فى المكة المكرمة وقد يشرّف بزيارة المدينة المنوّرة ، فقد يكون نزيل المكة وقد يكون نزيل المدينة .

(٣) انظر على سبيل المثال : حاشية إبن عابدين على الدر المختار ج ١ ص ٤٠٧ حيث قال هناك فى بحث تكرار الجماعة والاقتداء بالمخالف :

« وقد ألف جماعة من العلماء رسائل في كراهة ما يفعل في الحرمين الشريفين وغيرهما من تعداد الائمة والجماعات ، وصرحوا بأن الصلاة مع أول إمام أفضل ، ومنهم صاحب المنسك المشهور العلامة الشيخ رحمة الله السندي تلميذ المحقق ابن الهمام » . انتهٰى ، قلت : فوضح من هذه العبارة وعبارة الغزّى وكحالة إسم الرسالة ونسبته إلى المؤلف رحمه الله .

حول النسخة المخطوطة من الرسالة

النسخة الميسّرة لنا مصوّرة من النسخة الموجودة فى المكتبة الأزهرية برقم = (٢٢٨٨) ورقم = (٢٢١٦٩) ، مشتملة على عشر ورقات ، فى كل ورقة ٢٣ سطرًا . مكتوبة بخط النسخ الواضح ، تمّ نسخه وقت عصر يوم الاربعاء رابع عشر ١٤ محرم الحرام سنة تسع وتسعين والف (١٠٩٩) غفر الله لكاتبها. وإليكم صورة ورقة منها :



الورقة الأولى من رسالة غاية التحقيق ونهاية التدقيق للعلامة السندى رحمه الله

بسم الله الرحمٰن الرحيم

مقدّمة المؤلف رحمه الله

وبه التوفيق ، الحمد لله الذى افتتح بحمده فى كل رساله ومقالة ، والصلاة والسلام على سيدنا محمد صاحب النبوة والرسالة.

قال مولانا العالِم الإمام العلامة الحبر البحر الفهامة شيخ الإسلام وبركة الأنام تلميذ المحقق إبن الهمام رحمه الله الشيخ على السندى الحنفى عامله الله بلطفه الخفى :

إخوانى رحمكم الله وأبقاكم ونصركم وبصّركم وأواكم سألتمونى (١) أن أجمع لكم أقوال العلماء السادة الحنفية فى بيان الإقتداء بالشفعوية وعن الصحيح المنقول فى ذلك ، فاقول وبالله التوفيق :

إعلم انه قد اختلف علماؤنا رضى الله عنهم قديما وحديثا فى جوازه على أربعة أقوال:

القول الأول : أنه يجوز الاقتداء به إذا كان يحتاط فى مواضع الخلاف وإلا فلا وعلى هذا أكثر المشايخ رحمهم الله تعالى منهم الامام شمس الائمة السرخسى رحمه الله (٢) وصدر الاسلام (٣) وأبو الليث السمرقندى

(١) من هذا يتضح أن المؤلّف رحمه الله قد ألّف هذه الرسالة بعد ما سئل منه بعض العلماء ، ولذا يقول المترجمون فى البحث عن هذه الرسالة : « غاية التحقيق ونهاية التدقيق في مسائل ابتلي بها أهل الحرمين الشريفين » . معجم المؤلفين ج ١ ص ٧١٢.

(٢) هو شيخ الإسلام إمام الحنفية شمس الائمة محمد بن أحمد بن أبى بكر السرخسى ، من طبقة المجتهدين فى المسائل ، ولم يذكر المترجمون سنة ولادته وتوفى سنة ٤٨٣ أو سنة ٤٧٣ أو سنة ٤٩٠ أو سنة ٥٠٠ . أشهر كتبه المبسوط فى الفقه الحنفى ، ثلاثون جزءًا ، أملاه وهو سجين بالجب فى أوزجند (بفرغانة) وله كثير من الكتب النافعة القيمة .

أنظر : الأعلام ج ٥ ص ٣١٥ ، معجم المؤلفين ج ٣ ص ٥٢ ، الفوائد البهية ص ١٥٨ ، الجواهر المضية ج ٢ ص ٢٨ .

(٣) قال الذهبى فى سير أعلام النبلاء ج ٩ ص ٤٩ فى ترجمته :

« البزدوى : ويلقب بالقاضي الصدر ، هو العلامة شيخ الحنفية بعد أخيه الكبير ، أبو اليسر محمد بن محمد بن الحسين بن المحدث عبد الكريم بن موسى بن مجاهد النسفي، وبزدة : قلعة حصينة [على ستة فراسخ من نسف ، كما في " معجم ياقوت: ١ / ٤٠٩] ، قال عمر بن محمد [النسفي السمرقندي المتوفى سنة ٥٣٧ هـ] في " القند [في تاريخ سمرقند] " : كان أبو اليسر إمام الأئمة على الإطلاق ، والموفود إليه من الآفاق ، ملأ الكون بتصانيفه في الأصول والفروع ، وولى قضاء سمرقند ، وأملى الحديث مدة. توفي ببخارى في تاسع رجب سنة ثلاث وتسعين [وأربعمائة] ٤٩٣، وقال إبن السمعانى : =

(١) وصاحب الهداية (٢) وصاحب الكافى (٣) وقاضى خان (٤) والتمرتاشى (٥) وصاحب

= مولده سنة إحدى وعشرين [وأربعمائة] ٤٢١. » انتهى

وأنظر ترجمته فى : معجم المؤلفين : ج ٣ ص ٦٣٨ ، ٦٣٩ ، الأنساب : ج ٢ ص ١٨٩ ، الجواهر المضية : ج ٤ ص ٩٨ ، تاج التراجم : ٤٨ ، ٤٩ ، هدية العارفين : ج ٢ ص ٧٧.

(١) هو نصر بن محمد بن أحمد بن إبراهيم السمرقندي (أبو الليث ، إمام الهدى) فقيه ، مفسر ، محدث ، حافظ ، صوفى توفى، فى ١١ جمادى الآخرة سنة ٣٩٣ ، من تصانيفه الكثيرة : النوازل ، في فروع الفقه الحنفي ، تفسير القرآن ، تنبيه الغافلين ، خزانة الفقه على مذهب ابي حنيفة ، وبستان العارفين في الآداب الشرعية ، وهذه كلها مطبوعة .

أنظر ترجمته فى : سير أعلام النبلاء ج ١٦ ص ٣٢٢ - ٣٢٣ ، معجم المؤلفين ج ٤ ص ٢٤ ، ت = ١٧٦١٧ . وذكر هناك كثير من مراجع الترجمة .

(٢) صاحب الهداية هو الإمام علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني ، الحنفي (برهان الدين ، أبو الحسن) فقيه ، فرضي ، محدث ، حافظ ، مفسر ، مشارك في أنواع من العلوم. توفى سنة ٥٩٣ هـ .

ومن تصانيفه : شرح الجامع الكبير للشيباني ، بداية المبتدي ، الهداية وكفاية المنتهي ، التجنيس والمزيد ، ومختار الفتاوى وكلها في فروع الفقه الحنفى .

أنظر ترجمته فى : سير أعلام النبلاء ج ٢١ ص ٢٣٢ ، معجم المؤلفين ج ٢ ص ٤١١ .

(٣) صاحب الكافى هو الإمام العلامة محمد بن محمد بن أحمد بن عبد الله بن عبد المجيد بن إسماعيل بن الحاكم المروزي البلخي ، السلمي ، الشهير بالحاكم (أبو الفضل) فقيه ، محدث ، حافظ. سمع الحديث بخراسان ونيسابور والري وبغداد والكوفة وولي القضاء ببخارا ، ثم ولاه أمير خراسان وزارته ، وقتل في ربيع الاخر سنة ٣٤٤ .

من آثاره : الكافي ، وهو متن كتاب المبسوط لشيخ الإسلام شمس الأئمة أبى بكر محمّد بن أحمد بن أبى سهل السرَّخسى المتوفى سنة ٤٩٠ هـ ، المستخلص، والمنتقى وكلها في فروع الفقه الحنفي.

أنظر ترجمته فى : معجم المؤلفين ج ٣ ص ٦٢٣ ، ت = ١٥٤٥٢ .

(٤) الإمام قاضى خان هو حسن بن منصور بن محمود بن عبد العزيز الاوزجندي، الفرغاني، الحنفي، المعروف بقاضي خان (فخر الدين، أبو المفاخر، أبو المحاسن) فقيه مجتهد في المسائل. توفي في منتصف رمضان سنة ٥٩٢ هـ .

من تصانيفه: الفتاوى في اربع مجلدات، المحاضر، شرح ادب القاضي للخصاف، شرح الزيادات للشيباني، وشرح الجامع الصغير للشيباني في فروع الفقه الحنفي.

أنظر ترجمته فى : شذرات الذهب ج ٦ ص ٥٠٤ - ٥٠٥ ، معجم المؤلفين ج ١ ص ٥٩٤ .

(٥) التمرتاشى أراد به أحمد بن إسماعيل بن محمد إيدغمش التمرتاشي الخوارزمي ، الحنفي (ظهير الدين ، أبو محمد) مفتي =

التاتارخانية (١) والصدر الشهيد (٢) وتاج الشريعة (٣) وصاحب

= خوارزم. من مؤلفاته: شرح الجامع الصغير ، وكتاب التراويح.

أنظر ترجمته ومراجعها فى : معجم المؤلفين ج ١ ص ١٠٦ .

(١) صاحب الفتاوى التاتارخانية هو الإمام عالم بن العلاء الأندريتي ، فقيه ، كان بارعًا فى اللغة العربية ومبرزًا فى الفقه والأصول ، وهو الذى صنّف الفتاوى التاتارخانية ، جمع فيه مسائل المحيط البرهانى والذخيرة والخانية والظهيرية ، صنفه سنة ٧٧٧ هـ ، وذلك بأمر الخان الأعظم تاتارخان فسماه بإسمه ، ويسمى أيضا بإسم زاد المسافر كما ذكره صاحب كشف الظنون . توفى سنة ٧٨٦ هـ . وما وقع فى معجم المؤلفين ج ٢ ص ٢٦ سنة وفاته هكذا (٢٨٦ هـ) فهو من أخطاء الناسخ. والله أعلم

أنظر ترجمته فى : مقدمة الفتاوى التاتارخانية ج ١ ص ٢٣ – ٢٨ ، ومعجم المؤلفين ج ٢ ص ٢٦ ت = ٦٣٨١ .

(٢) الصدر الشهيد هو الإمام عمر بن عبد العزيز بن مازه الحنفي المعروف بالصدر الشهيد (أبو محمد ، حسام الدين) فقيه ، اصولى، مفسر ، محدث، من أهل بخارا. ولد في صفر سنة ٤٨٣، وكان الملوك يصدرون عن رأيه . وتوفي شهيدا سنة ٥٣٦ هـ من تصانيفه الكثيرة : الفتاوى الكبرى ، شرح الجامع الصغير للشيباني في فروع الفقه الحنفى، مصنَّف في الوقف والابتداء، عمدة المفتي والمستفتي ، شرح كتاب ادب القضاء للخصاف المتوفى سنة ٢٦١ هـ ، وغيرها .

قلت وقد طبع ولله الحمد والمنة شرحه على كتاب أدب القضاء للإمام الخصاف فى أربع مجلدات ، فى مطبعة الإرشاد ببغداد ، سنة ١٣٩٧ هـ ق – ١٩٧٧ م ، بسعى الجمهوريّة الإسلامية العراقيَّة ، وزارة الأوقاف ، شعبة إحياء التراث الإسلامى ، بتحقيق الأستاذ محيى هلال السرحان .

أنظر ترجمته فى : مقدمة السرحان المذكور، لشرح الصدر الشهيد على كتاب أدب القاضى للخصاف ج ١ ص ٢٥-٥٦، وهناك يجد الباحث المراجع الشاملة لترجمته . ومعجم المؤلفين ج ٢ ص ٥٦٢ ، وذكر هناك إسم جده هكذا (بن مازن) بالنون ، وهو خطاء واضح من الناسخ ، فإن الصحيح هو بالتاء المدوّرة المقلوبة حين الوقف بالهاء (مازة) . والله أعلم

(٣) تاج الشريعة : إشتهر بهذا اللقب إثنان من علماء السادات الحنفية ، أقدمهما عصرًا هو الإمام غالي (عالى) بن إبراهيم بن إسماعيل ، أبو عالي ، ناصر الدين ، تاج الشريعة ، نظام الإسلام ، الغزنوى . قال فيه العلامة إبن قطلوبغا فى التاج :

« له تفسير القرآن وكان صاحب فنون ، قلت [القائل هو إبن قطلوبغا] رأيت في خط الفاضل إبراهيم بن دقماق في هذه الترجمة : الغزنوي البلقي إمام في التفسير والفقه واللغة والعربية والأصول والجدل له تفسير القرآن الكريم في مجلدين ضخمين سماه تقشير التفسير أبدع فيه ، تفقه عليه عبد الوهاب بن يوسف وتوفي سنة تسع وتسعين وخمسمائة (٥٩٩) ، ورأيت في خطه أيضا في باب العين المهملة عالي بن إبراهيم بن إسماعيل الغزنوي ، أبو علي ، كان ممن لقي فخر خوارزم أبا القاسم الزمخشري وقرأ عليه وكتب عنه وقدم حلب وأقام بها يدرِّس فقه المذهب ، وله من الكتب المصنفة كتاب المشارع =

المضمرات (١) وصاحب النهاية (٢) وقوام الدين شارح الهداية (٣) وفخر الدين شارح

= في الفقه وكتاب المنافع في شرح المشارع وتفسير القرآن وكانت وفاته سنة اثنتين وثمانين وخمسمائة (٥٨٢)، قلت: [القائل هو إبن قطلوبغا] هما واحد بالعين المهملة، وقد تبع شيخنا وأبن دقماق عبد القادر في ذكره بالمعجمة ثم وقف إبن دقماق على الترجمة الثانية عند الصفدي فظنهما إثنين في العين المهملة، والوفاة الأولى وفاة تلميذه عبد الوهاب وهذه وفاته، ومن هنا [إختلاف سنتى الوفاتين] تأكد عند إبن دقماق إنهما اثنان. والله أعلم» انتهى ما فى تاج التراجم ص ٣٦.

وأنظر ترجمة تاج الشريعة هذا فى: معجم المؤلفين ج ٢ ص ٦٠١، ت = ١٠٦٦٣.

وأقدمهما شهرة هو الإمام عمر بن أحمد بن عبيد الله المجوبى، البخاري، الحنفي (تاج الشريعة). توفى سنة ٦٧٢ هـ.

من تصانيفه: نهاية الكفاية في دراية الهداية في فروع الفقه الحنفي.

أنظر ترجمته فى: معجم المؤلفين ج ٢ ص ٥٥٢، ت = ١٠٣٢١.

ويغلب الظن على هذا الثانى انه هو مراد المؤلف رحمه الله. والله أعلم

(١) صاحب المضمرات هو العلامة يوسف بن عمر بن يوسف الصوفي، الكادوري، البزار، المعروف عند الترك بنبيرة عمر بزار (شمس الدين). توفى سنة ٨٣٢ هـ.

من آثاره: جامع المضمرات والمشكلات في شرح مختصر القدوري في فروع الفقه الحنفي.

أنظر ترجمته فى: معجم المؤلفين ج ٤ ص ١٧٤، ت = ١٨٤٨٢.

(٢) صاحب النهاية هو من تلامذة الإمام المتقدم ذكره المرغينانى صاحب الهداية، وهو حسين بن علي بن الحجاج بن علي الصغناقي الحنفي (حسام الدين) فقيه، أصولي، متكلم، نحوي، صرفي. توفى سنة ٧١١، أو ٧١٠، أو ٧١٤ هـ.

من تصانيفه: شرح الهداية لأستاذه المرغيناني وسماه النهاية في فروع الفقه الحنفي، الكافي شرح البزدوي في أصول الفقه، شرح التمهيد لقواعد التوحيد لأبي المعين النسفي في مجلد ضخم، شرح المنتخب في أصول المذهب للأخسيكتي وسماه الوافي، وشرح المفصل للزمخشري في النحو.

أنظر ترجمته فى: معجم المؤلفين ج ١ ص ٦٢٣.

(٣) قوام الدين شارح الهداية هو الإمام أمير كاتب بن أمير عمر بن أمير غاري الفارابى، من ولاية فارياب فى أفغانستان، الإتقانى، الحنفي، فقيه، لغوي، محدث، مفسر، إمام، وذكر إبن عماد فى الشذرات بحوالة السيوطى فى البغية الوعاة، إسمه: لطف الله، ولد باتقان في ١٩ شوال سنة ٦٨٥، وولي تدريس مشهد الإمام بظاهر بغداد، وقدم دمشق، ومصر، وتوفى بالقاهرة في ١١ شوال سنة ٧٥٨.

من تصانيفه: شرح الهداية في عشرين مجلدا سماه (غاية البيان ونادرة الأقران في آخر الزمان) وشرح الاخسكيتى سماه التبيين في اصول المذهب، ورسالة في علوم صحة الجمعة في موضعين من البلد، وشرح البزدوي ولم يكمله. =

الكنز (١) وشخينا المحقق كمال الدين بن الهمام (٢) شارح الهداية المسمى بفتح القدير وغيرهم من المشايخ رحمة الله عليهم اجمعين.

= أنظر ترجمته فى : شذرات الذهب ج ٨ ص ٣١٦ – ٣١٧ ، معجم المؤلفين ج ١ ص ٣٩٨ .

(١) فخر الدين هذا هو الإمام أحمد بن علي بن أحمد الهمدانى ، ثم الكوفي الحنفي ، الشهير بإبن الفصيح (فخر الدين ، أبو طالب) فقيه ، شاعر ، مشارك في بعض العلوم. ولد بالكوفة سنة ٦٨٠ ، وقدم دمشق ، وتصدى للإفتاء والتدريس والإقراء إلى أن مات بها في شعبان سنة ٧٥٥ وقد قارب الثمانين .

من تصانيفه : نظم كنز الدقائق للنسفي في فروع الحنفية ، وسماه بمستحسن الطرائق، وهذا هو الذى سماه المؤلف رحمه الله بشرح الكنز ، ونظم السراجية في الفرائض ، نظم منار الأنوار في أصول الفقه للنسفي ، نظم النافع ، ونظم قصيدا في القراءات السبع سماه حل الرموز .

وقال إبن قطلوبغا : ونظم شاطبية أظهر رمزها وجاءت أصغر من الشاطبية ، وسمع على الصاغاني ، وروى عنه كتب إليه الشيخ أثير الدين أبو حيان لما قدم دمشق قصيدا منها :

شرف الشام واستنارت رباه   بإمام الأئمة أبن الفصيح

كل يوم له دروس علــــوم   بلسان عذب وفكر صحيح

أنظر ترجمته فى : معجم المؤلفين ج ١ ص ١٩٧ . وهناك يوجد كثير من مراجع ترجمته ، فلينظر ثمّه .

(٢) هو إمام الحنفية المشتهر فى الآفاق ، المشار إليه فى المحققين بالبنان ، شيخ مؤلف هذه الرسالة ، محمد بن عبد الواحد بن عبد الحميد إبن مسعود السيواسي الأصل ، الإسكندري ، ثم القاهري ، الحنفي ، المعروف بإبن الهمام (كمال الدين) عالم مشارك في الفقه والأصول والتفسير وعلم الطبيعة والفرائض والحساب والتصوف والنحو والصرف والمعاني وغير ذلك.

ولد بالإسكندرية سنة ٧٩٠ ظنا ، وفي رواية ٧٨٨ ، أو ٧٨٩ هـ ، وقدم القاهرة ، ورحل إلى حلب وأقام بها مدة ، وجاور بالحرمين ، ثم كان شيخ الشيوخ بالخانقاه الشيخونية بمصر ، وكان معظما عند الملوك وأرباب الدولة ، وتوفي بالقاهرة في رمضان سنة ٨٦١ هـ .

من تصانيفه: شرح الهداية في فروع الفقه الحنفي وسماه فتح القدير للعاجز الفقير ، وصل فيه إلى أثناء الوكالة ، مختصر الرسالة القدسية بأدلتها البرهانية للغزالي ، المسايرة في العقائد المنجية في الآخرة ، التحرير في أصول الفقه ، وشرح بديع النظام الجامع بين كتابي البزدوي والأحكام لابن الساعاتى . وذكر إبن العماد فى تصانيفه : له كُرّاسة فى إعراب سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم ، وله مختصر فى الفقه سمّاه زاد الفقير .

وقد قام بخدمة شرحه على الهداية تكميلاً وتشريحا وتوضيحا كثير من العلماء ، فمنهم : أحمد بن محمود الادرنوي ، الرومي المعروف بقاضي زاده (شمس الدين) ، قال فى ترجمته فى معجم المؤلفين ج ١ ص ٣٠٤ فى تصانيفه : تكملة فتح القدير =

والاصل في هذا أن المذهب الصحيح الذى عليه المشايخ سلفا وخلفا أن العبرة فى جواز الصلاة وعدمه لرأى المقتدى فى حق نفسه لا لرأى إمامه ، فلو علم المقتدى من الإمام ما يفسد الصلاة على زعم الإمام كمسّ المرأة وغيره يجوز الإقتداء به ، لأنه يرى جوازها ، والمعتبر فى حقه رأيه لا غير فوجب القول بجوازها.

ولو علم منه ما يفسد الصلاة عنده لا عند الإمام لا يجوز الإقتداء به ، لما قلنا ان العبرة لرأى المقتدى ، وإنه لم ير الإقتداء به جائزا فوجب القول بعدم الجواز ، فان صلى معه يعيد صرح به الصدر الشهيد رحمه الله .

وهذا هو الأصل الذى لا محيد عنه للحنفى ، فإنه إما أن يسلم هذا الأصل أو لا ، فإن كان الثانى فلا خطاب معه لتركه المذهب ، وإن كان الأول فلا محيص عنه أو يُسلم فى مسائل دون اخرى فيحتاج إلى الفرق.

فان قيل: قد ذكر بعضهم ما يوجب أن المعتبر رأى الإمام عند جماعة من المشائخ كما سياتى.

اجيب: بأن المراد من قولهم ذلك أنه يعتبر عند تلك الجماعة رأى الإمام أيضا كما يعتبر رأى المأموم لا أن المعتبر رأى الإمام فقط بل فى إعتبار رأى المأموم الإتفاق وفى رأى الإمام الإختلاف.

ومنشاء هذا السوال قولهم فيما إذا شاهد من الإمام ما يفسد الصلاة عنده أو ينقض الوضوء كالنجاسة القليلة ومس الذكر والمرأة فالأكثر على أنه يجوز وهو الأصح .

ومختار الهندوانى (١) وجماعة أنّه لا يجوز لأن إعتقادَ الإمام أنه ليس فى الصلاة ولا بناء على المعدوم .

= لإبن الهمام في فروع الفقه الحنفي ، انتهٰى ، محمد بن عبد الهادي السندي ، ثم المدني ، الحنفي (أبو الحسن الكبير) ، قال فى ترجمته فى معجم المؤلفين ج ٣ ص ٤٦٨ فى تصانيفه : له حاشية على فتح القدير لابن الهمام في فروع الفقه الحنفي .

أنظر ترجمته ومراجعها الحافلة فى : شذرات الذهب ج ٩ ص ٤٣٧ – ٤٣٩ ، معجم المؤلفين ج ٣ ص ٤٦٩ – ٤٧٠ .

(١) الهندوانى هو الإمام العلامة محمد بن عبد الله بن محمد بن عمر الهندواني ، المعروف بأبي حنيفة الصغير .

قال إبن العماد فى الشذرات :

كان من براعته فى الفقه يقال له : أبو حنيفة الصغير ، توفى ببخارى سنة ٣٦٢ هـ ، وكان شيخ تلك الديار فى زمانه ، وقد روى الحديث عن محمد بن عُقيل البلخى وغيره . انتهٰى

أقول : ذكره الذّهبى فى سير أعلام النبلاء ج ١٤ ص ٤١٥ فى ترجمة محمد بن عُقيل البلخى شيخه .

وقال إبن الأثير علي بن محمد الجزرى فى كتابه المفيد: اللُّباب فى تهذيب الأنساب للسمعانى ج ٢ ص ٤٥٢ :

الهِنْدُواني: بكسر الهاء وسكون النون وضم الدال المهملة وفتح الواو وبعدها ألف وفى آخرها نون ، هذه النسبة إلى محلة ببلخ يقال لها باب هندوان ، لأنها ينزل فيها الغلمان والجوارى الذين يجلبون من الهند . انتهٰى =

ولا يخفى أنه لا دلالة فى هذا على أن الهندوانى رحمه الله ومن معه يقولون بعدم إعتبار رأى المقتدى فطاح السوال من أصله.

ويرده أيضا مسئلة الجامع الصغير المتفق عليها فى الذين تحروا فى الليلة المظلمة ، وصلى كل إلى جهة ، مقتدين بأحدهم ، لا تجوز صلاة من علم بحال الإمام ، لأن عنده إمامه يصل إلى غير القبلة ، ومن إعتقد فساد صلاة الإمام لا تجوز صلاته. انتهٰى

فهذه المسئلة تعين قول الجمهور وتردّ ما عداه .

وأمّا مواضع الخلاف التى تمنع جواز الإقتداء به :

فمنها عدم الوضوء من الفصد ، والحجامة ، وخروج الخارج من غير السبيلين ، كالقيئ ، والرعاف ، والقهقهة فى الصَّلاة ، والوضوء من القلَّتين ، ورفع اليدين عند الركوع والرفع منه ، وغَسل المنى أو فركه ، وقطع الوتر على ركعتين ، ومسح الرأس على أقل من الربع ، وترك المضمضة والإستنشاق فى غسل الجنابة ، وتكرار الفرض فى الفرض ، وعدم رعاية الترتيب بين الفوائت ، والصّلاة عند الطلوع ، والصلاة مع نجاسة هى ظاهرة عندهم ، كلحم ما لم يذكر اسم الله عليه عمدًا ، وسؤر السباع ونحو ذلك ، والإكتفاء بالرش على النجاسة ، والصّلاة مع محاذاة المرأة ، وبالإيماء ، وكشف الركبة فيها ، وبسط اليدين فى القنوت ، والإنحراف عن القبلة انحرافا فاحشا ، والشك فى الإيمان ، والقول بزيادته ونقصانه ، وأن العمل من الايمان ، والتعصب.

= قلت : وذكر كحالة فى نسبته (الهنداوى) ، وقال فى الحاشية : أنه نسبة إلى محلة ببخارا .

لكن الصحيح هو الأوّل ، وذلك لأن لفظ (هندوان) جمع لفظ (هندو) فى لغة أهل بلخ ، وهندو بمعنى الهنود ، فكانت الياء فى (الهندوانى) للنسبة وصار المعنى واضحًا وهو من يسكن فى محلة (هندوان) ، وأما الهنداوى فليس معناه بينًا لأن لفظي (هنداو) و (هندا) لا معنى له إلا بالتأويل البعيد . والله أعلم

وقال الياقوت فى المعجم ج ٥ ص ٤١٨ :

هِندُوان بضم الدال وآخره نون ، نهر بين خوزستان وأرّجان ، عليه ولاية ينسب إليه كثيرون. انتهٰى

ومن آثار الهندوانى رحمه الله : شرح ادب القاضي لأبي يوسف ، الفوائد الفقهية ، وكشف الغوامض في فروع الفقه .

أنظر ترجمته فى : سير أعلام النبلاء ج ١٦ ص ١٣١ ، شذرات الذهب ج ٤ ص ٣٢٨ – ٣٢٩ ، معجم المؤلفين ج ٣ ص ٤٥٨ .

فهذه الشرائط التى صرح بها غير واحد من أكابر المشائخ رحمة الله عليهم .

واشترط الفقيه أبو الليث السمرقندى رحمه الله تعالى أن لا تعمل بخلاف مذهب الحنفى .

ثم بعض هذه الشرائط توجب فساد الصلاة وهى التى قبل بسط اليدين ، وبعضها يوجب الكراهة وهى التى بعده.

وأمّا الشك على وجهٍ يوجب الفساد فينكرونه .

وأمّا القول بالزيادة والنقصان ، وأن العمل من الإيمان ، فإنهم يقولون ذلك مؤوّلين فانعدم الفساد وبقيت الكراهة لما فيها من الإيهام .

وأمّا التعصّب فإنه يوجب الفسق وهو ليس بمانع من الجواز إلا أنه يوجب الكراهة .

ثم لنورد شيئا من نصوص المشائخ رحمهم الله على ذلك :

قال قاضى خان رحمه الله فى فتاواه :

والإقتداء بشافعى المذهب ، قالوا لا بأس به ، إذا لم يكن متعصبا ، ولا شاكا فى إيمانه ، ولا منحرفا انحرافا فاحشا عن القبلة ، ولا شك أنه لو جاوز المغارب كان فاحشا ، وأن يتوضأ من الخارج من غير السبيلين ، ولا يتوضأ بالماء القليل الذى وقعت فيه نجاسة . انتهٰى

وقال صاحب الهداية :

إذا علم المقتدي من الإمام ، ما يزعم به فساد صلاته ، كالفصد والحجامة وغيرهما ، لا يجوز الإقتداء به .

وقال صاحب النهاية :

إقتداء الحنفى بالشافعى غير جائز لوجود المفسد فيها عنده فكأنه يقتدى بمن هو خارج الصلاة .

وقال صاحب الخانية أيضا :

إذا قال شافعى المذهب : إلٰهى ما عرفناك حق معرفتك ، أو يقول : أنا مؤمن إنشاء الله ، أو يقول : العمل من الإيمان ، أو يزيد وينقص ، أو يتوضأ من القلتين ، أو جرح دم من عضيده ، أو ترك المضمضة والإستنشاق فى غسل الجنابة ، أو مسح رأسه أقل من الربع فى الوضوء ، فلا تجوز الصلاة خلفه .

وقال صاحب التاتارخانية :

لو علم المقتدى من الإمام ما يمنع جواز الصلاة لا يجوز الإقتداء به لأن العبرة فى حق جواز الصلاة وعدم الجواز لرأى المقتدى وهو قول الأكثر وهو الأصح على ما صرح به المحقق شيخنا كمال الدين بن الهمام وغيره .

وقال تاج الشريعة :

إذا كان الشفعوى يصلى عند الطلوع ، ويصلى الوتر أكثر من ثلاث ركعات ، أو بسط يديه فى دعاء القنوت ، أو يرفع يديه فى تكبيرات الركوع ، لا يجوز الإقتداء به .

وقال الصدر الشهيد :

المقتدى إذا رأى بثوب الإمام نجاسة ، وهو يرى أنه لا يجوز الصلاة معها ، والإمام يرى الجواز ، فالمقتدى يعيد الصلاة ، لأنه لم ير الإقتداء به جائزا ، فان رأى الإمام الصلاة فاسدة ، والمقتدى يراها جائزة ، لا يفسد . انتهٰى

وهذا أيضا قول الأكثر وهو الأصح .

وأما ما اختاره الهندوانى ومن معه ، من أنه يعيد ، لأن إعتقاد الإمام أنه ليس فى الصلاة ، ولا بناء على المعدوم ، فالجواب عنه ما مرّ ، من أن المعتبر فى حق المقتدى رأى نفسه لا رأى الإمام على الاصح .

وقال شمس الائمة السرخسى رحمه الله :

إذا قال شفعوى المذهب : أنا مؤمن إنشاء الله ، لا يجوز للحنفى الذى يقول : أنا مؤمن حقا ، أن يقتدى به .

وقال فى المبسوط :

الصلاة خلف الشافعى جائزة ، إذا كان يحتاط جميع مواضع الخلاف ، بأن لا يميل عن القبلة ميلا فاحشا ، ويجوّز الوضوء عند الفصد ، والحجامة ، ويغسل ثوبه من المنى ، ولا يقطع وتره ، ونحو ذلك ، ولم يكن متعصبا ، ولا شاكا فى إيمانه .

وذكر التمرتاشى عن شيخ الإسلام المعروف بخُوَاهَر زاده (١) رحمه الله تعالى : إذا لم تعلم منه هذه الأشياء بيقين ، يجوز الإقتداء ويكره .

وقال فى النهاية شرح الهداية ، فى باب الإمامة :

وتكره الصلاة خلف الشافعى ، إن إحتاط مواضع الخلاف ، وإلا ففاسدة ، ومثله فى شرح المجمع لإبن فرشته (٢) ، وهذا النقل كاف فى بابه .

---

(١) الإمام خواهر زاده هو محمد بن الحسين بن محمد بن الحسن البخاري ، الحنفي ، المعروف بخواهر زاده (أبو بكر) . فقيه ، نحوي . توفي في جمادي الأولى سنة ٤٨٣ هـ .

وقال إبن الأثير علي بن محمد الجزرى ، فى نسبته فى اللُّباب ج ١ ص ٣١٦ :

(خُواهر زادة) بضم الخاء المعجمة وفتح الواو والهاء بينهما ألف ساكنة وبعد الهاء راء ساكنة وزاى مفتوحة وبعدها ألف وذال معجمة ، يقال لجماعة من العلماء كانوا [كلواحد منهم] أولاد أخت عالم ، فنسبوا إليه بالعجمية ، منهم الإمام أبوبكر محمد بن الحسين بن محمد الحسين البخارى يعرف بخواهر زادة ، وهو إبن أخت القاضى أبى ثابت محمد بن أحمد البخارى .

قلت : لأن معنى (خُواهر زادة) بالعربية : إبن الأخت .

ويذكرون أيضا فى نسبه لفظ (القُديدىّ) ، بضم القاف ، والياء الساكنة آخر الحروف ، بين الدّالين المهملتين ، وهو نسبة إلى قُديد ، وهو موضع بين المكة والمدينة .

وذكر السمعانى فى الأنساب ج ١٠ ص ٧٧ حول نسبة خواهر زادة بـ (القديدىّ) :

لا أدرى نُسب إلى أىّ شيء ، وهو من أهل بخارى . انتهى مع زيادة يسيرة

وأقرّ إبن الأثير فى اللباب ج ٢ ص ٢٠١ أيضا بعدم العلم بهذه النسبة . والله أعلم

من آثاره: المبسوط في خمسة عشر مجلدا ، وقيل : له مبسوطان ، وشرح الجامع الكبير للشيباني ، وشرح مختصر القدوري .

أنظر ترجمته فى : معجم المؤلفين ج ٣ ص ٢٥٨ ، الأنساب للسمعانى ج ٥ ص ٢٠١ ، اللُّباب فى تهذيب الأنساب ج ١ ص ٣١٦ ، شذرات الذهب ج ٥ ص ٣٥٣ .

(٢) إبن فرشته هو الإمام عبد اللطيف بن عبد العزيز بن أمين الدين إبن الملك الحنفي . توفى سنة ٨٨٣ هـ وقال الكحالة فى معجمه : توفى سنة ٨٠١ هـ . والله أعلم

قال إبن العماد فى الشذرات نقلاً من (الشقائق) :

كان عالمًا فاضلاً ماهرًا فى جميع العلوم الشرعية ، شرح (مجمع البحرين) شرحًا حسنًا جامعًا للفوائد، وهو مقبول فى بلادنا =

وقال صاحب مجمع الفتاوى (١) :

الإقتداء بالشافعى يجوز ، إذا لم يكن متعصبًا ، ولا شاكا فى إيمانه ، ولا يميل عن القبلة ميلا فاحشا ، بأن جاوز المغارب ، ولا يتوضأ من الماء الذى وقع فيه نجاسة وهو قدر القلتين .

وقولنا : ولا شاكا فى إيمانه ، بأن قال أنا مؤمن إن شاء الله ، أما لو قال : أموت مؤمنا إن شاء الله ، فإنه يصل خلفه .

وقال صاحب المضمرات :

إقتداء الحنفى بالشافعى جائز ، إذا لم يكن [يكن] متعصبًا ، ولا شاكا فى إيمانه ، ويحتاط مواضع الخلاف ، بأن لا يصلى الوتر ركعة ، ولا يصل بعد الإفتصاد قبل الوضوء ، ولا يتوضأ بماء مستعمل ، ونحو ذلك.

وقال الإمام صدر الاسلام أبو اليسر :

إقتداء الحنفى بالشافعى غير جائز ، من غير أن يطعن فى دينهم .

* * *

= وشرح أيضا (مشارق الأنوار) للإمام الصاغانى شرحًا لطيفًا ، وشرح (كتاب المنار فى الأصول) ، وله رسالة فى علم التصوف تدل على أن له حظًّا عظيمًا من معارف الصوفية . انتهى

وقال الكحالة فى حاشية المعجم : ويقال له : إبن فرشته ، ومعناه إبن الملك .

من مؤلفاته: شرح مشارق الأنوار في صحاح الأخبار للصغاني في الحديث ، شرح المنار للنسفي في أصول الفقه ، شرح مجمع البحرين لإبن الساعاتي في فروع الفقه الحنفي ، بدر الواعظين وذخر العابدين، ورسالة في التصوف وأهله وتحقيق مذهبهم.

أنظر ترجمته فى : شذرات الذهب ج ٩ ص ٥١٢ ، معجم المؤلفين ج ٢ ص ٢١٥ .

(١) صاحب مجموع الفتاوى هو العلامة أحمد بن محمد بن أبي بكر الحنفي ، توفى سنة ٥٢٢ هـ .

من تصانيفه : مجمع الفتاوى ، خزانة الفتاوى ، وغرائب المسائل.

ذكره حاجي خليفة فى كشف الظنون مع كتبه المذكورة : صفحات : ٧٠٣ ، ١١٩٧ ، وذكر مجمع الفتاوى فى ص : ١٦٠٣.

أنظر ترجمته فى : معجم المؤلفين ج ١ ص ٢٥٤ ، ت = ١٨٢٧ .

لما روى مكحول النسفى (١) فى كتاب له سماه « الشعاع عن أبى حنيفة رضى الله عنه » أن رفع اليدين عند الركوع والرفع منه مفسد ، بناءاً على أنه عمل كثير ، حيث أقيم باليدين وجعل ذلك عملاً كثيراً فصلاته فاسدة عندنا ، فلا يصح الإقتداء به لهذا .

وقال الإمام حسام الدين الشهيد شارح الجامع الصغير فى مسئلة جواز الإقتداء بمن يقنت فى الفجر :

قال بعض مشائخنا : دلت المسئلة على أن الإقتداء بشفعوى المذهب جائز ، إذا كان يحتاط فى مواضع الخلاف .

وأنكر آخرون ذلك :

لما روى مكحول النسفى صاحب الكتاب المسمى بـ « اللؤلؤيات » عن أبى حنيفة رضى الله عنه :

أن من رفع يديه عند الركوع ، وعند الرفع منه ، تفسد صلاته ، لأنه عمل كثير ، فصلاتهم فاسدة عندنا ، فلا يصح هذا الإقتداء .

---

(١) هو الإمام ميمون بن محمد بن محمد بن سعيد بن محمد بن مكحول بن أبي الفضل أبو المعين النسفي المكحولي الإمام الزاهد العالم البارع له كتاب التمهيد لقواعد التوحيد وكتاب التبصرة في الكلام .

قال بن الأثير الجزرى فى اللُّباب ج ٢ ص ٣٥٧ :

المكحولى بفتح الميم وسكون الكاف وضم الحاء المهملة وسكون الواو وفى آخرها لام ، هذه النسبة الى مكحول ، وهو جد جماعة . وإليهم تنسب اللؤلؤيات . انتهٰى

قال إبن قطلوبغا نقلا عن عمر بن محمد في كتابه (القند فى تاريخ علماء سمرقند) :

كان عالم الشرق والغرب يغترف من بحاره ويستضيء بأنواره توفي في الخامس والعشرين من ذي الحجة سنة ثمان وخمسمائة ٥٠٨ وله سبعون سنة قال الذهبي روى عنه شيخ الإسلام محمود بن أحمد الشاغرجي وعبد الرشيد بن أبي حنيفة الولوالجي . انتهٰى

أنظر ترجمته فى : الجواهر المضية ج ٣ ص ٥٢٧ ، معجم المؤلفين ج ٣ ص ٩٤٩ – ٩٥٠ .

وليوضح أن صدر الإسلام أبو اليسر توفى سنة ثلاث وتسعين وأربعمائة ٤٩٣ ، كما مرّ فى ترجمته ، ومكحول توفى سنة ثمان وخمسمائة ٥٠٨ ، فإن كان القول المنقول من كتاب مكحول جزءاً من قول صدر الإسلام ، كما هو الظاهر ، فهو من باب النقل من كتب الأقران ، ومثل هذا النقل يوجد كثيراً فى كتب المتقدمين والمتأخّرين ، وإن كان من قول المؤلف رحمه الله ، فلا خفاء فيه أصلاً ، لأنّه متأخّر من مكحول بمئات من السنين . هذا

وقال القاضي الصدر الشهيد ([1]) :

وظنّ بعض العلماء : أن المسئلة تدل على أن إقتداء الحنفى بالشفعوى جائز ، ولكن هذا ظنّ فاسدٌ ، فانَّ الشافعى لـم يكن يومئذ من جملة المجتهدين ، ولا كان يقول بقنوت الفجر ، فإنه إشتغل بتعلم الفقه بعد ما صنف أبو يوسف رحمه الله تعالى الجامع الصغير ، ولم يكن مجتهدًا فى زمن أبى يوسف . وأمّا إقتداء الحنفى بالشافعى فغير جائز ، لما روى مكحول النسفى. انتهٰى

فعلى هذا تحمل مسئلة جواز الإقتداء بمن يقنت على غير مذهب الشافعى ، ممن لا يرى رفع اليدين عند الركوع ، ويحتاط مواضع الخلاف ، كمالك رحمه الله لا يرى رفع اليدين فى الأصح عنه ، بل كرهه ، ولانه كان مجتهدا فى زمن أصحابنا رحمهم الله ، فظهر أن الحمل على هذا أولى من خلافه ، ولكن هذا أيضا مقيد بشروط الإختلاف ، كما صرح به الإمام حسام الدين الشهيد فى القانت. فتأمّل

ثمّ بهذا الحمل اندفع ما قيل : إن رواية مكحول ، عارضها رواية صحة الإقتداء بمن يقنت ، لأنّها سلمت عن التعارض بما ذكرنا .

وقال المحقق شيخنا كمال الدين بن الهمام :

يجوز الإقتداء بالشافعى بشروط نذكرها ، فذكرها كغيره .

وفى بعض الكتب كالإرشاد ([2]) :

---

(١) المراد به صدر الإسلام أبو اليسر البزدوى ، وقد يلقب بالقاضي الصدر . مرّ ترجمته فى الأوائل قريبا .

(٢) الإرشاد كتاب فى علم الخلاف ، ومؤلفه هو الإمام أبو حامد محمد بن محمد بن محمد (وقيل أحمد) العميدى ، الفقيه الحنفى، السمرقندى ، الملقب ركن الدين . كان إماما فى فن الخلاف ، خصوصا فى البحث والمناظرة ، وهو أول من أفرده بالتصنيف، ومن تقدمه كان يمزجه بخلاف المتقدمين ، وصنف العميدى فى هذا الفن طريقة ، وهى مشهورة بأيدى الفقهاء بالطريقة العميدية ، وصنف الإرشاد واعتنى بشرحه جماعة من أرباب هذا الشان ، منهم القاضى شمس الدين أبو العباس أحمد بن الخليل بن سعادة إبن جعفر بن عيسى الفقيه الشافعى قاضى دمشق ، والقاضى أوحد الدين الدونى قاضى منبج ، ونجم الدين المرندى وغيرهم . وصنف أيضا « كتاب النفائس » ، واختصره القاضى شمس الدين الشافعى المذكور ، وسماه « عرائس النفائس » . وصنّف أشياء مستملحة على هذا الأسلوب ، واشتغل عليه خلق كثير وانتفعوا به .

وكان العميدى كريم الأخلاق ، كثير التواضع طيب المعاشرة ، وتوفى ليلة الأربعاء تاسع جمادى الآخرة سنة خمس عشرة وستمائة ببخارا . =

الصلاة منفردا أفضل من الصلاة خلف الشفعوى ، والصلاة مع الجمّ الكثير أفضل من الصلاة منفردا ، (١) ما لم يكن الإمام شافعيا أو مبتدعا .

ثم هٰؤلاء العلماء كل واحد منهم قطب من الأقطاب ، ينبوع العلم ، والزهد ، والتقى ، والفتوى ، بل بحر محيط بالشريعة ، مشهور فى أقطار البلدان بالإجتهاد ، فلم يرو عن واحد منهم جواز الإقتداء به بلا شرط ، فكيف يصح مخالفة هذا الجمّ الغفير ، والجمع الكثير ، مع أن معهم ما يساعدهم ، من الرواية والدراية والاحتياط .

فإن قيل : الرفع ليس بمفسد عندنا ، على ما صححه بعضهم كصاحب الذخيرة (٢) والكافى لشذوذ رواية مكحول ، وصرح بشذوذها صاحب النهاية .

= أنظر ترجمته : فى وفيات الأعيان ج ٤ ص ٢٥٧ – ٢٥٨ ، شذرات الذهب ج ٧ ص ١١٦ ، معجم المؤلفين ج ٣ ص ٦٨٤ .

قلت : وذكر إبن قطلوبغا كتاباً آخراً يسمى بـ « الإرشاد » ، وهو أيضا فى الفقه الحنفى ، ومؤلفه نوح بن منصور . ولم أجد أى معلومات حوله . لكن الظاهر أن مراد المؤلف رحمه الله هو الكتاب الأول ، كما لا يخفى .

(١) **كتب فى هامش المخطوطة :**

أقول: وهذا ظاهر كل الظهور ، لما تقرر أن الأمر والنهى إذا اجتمعا قدم النهى ، والصلاة بالجماعة مأمور بها ، وكونها مع الكراهة منهى عنها ، فلذا كان الأفضل الصلٰوة منفردا . إنتهٰى

(٢) قال حاجى خليفة رحمه الله فى كشف الظنون ج ١ ص ٨٢٣ :

ذخيرة الفتاوى المشهورة : بـ (الذخيرة البرهانية) ، للإمام برهان الدين ، محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مازه البخاري ، المتوفى سنة ٦١٦ هـ .

اختصرها من كتابه المشهور بـ (المحيط البرهاني) وكلاهما مقبولان عند العلماء ، أوله : (الحمد لمستحق الحمد والثناء ... الخ) ، قال الإمام برهان الدين : أن سيدنا الإمام الصدر والشهيد حسام الدين وهو عم المصنف جمع مسائلاً قد استفتى عنها وأحال جواب كل مسألة إلى كتاب موثوق به أو إلى الإمام يعتمد عليه وهي وإن صغر حجمها فقد حوت كثيرا من الأحكام وقد جمعت أنا في حداثة سني وعنفوان عمري في إفتاء ما رفع إليَّ من مسائل الواقعات أيضا وضممت إليها أجناسها من الحادثات وجمعت أيضا جمعا آخر استفتي مني مدة مقامي بسمرقند وذكرت فيها جواب (ظاهر الرواية) وأضفت إليها من واقعات النوادر وما فيها من أقاويل المشايخ ، وكان يقع في قلبي أن أجمع بين هذه الأصول الثلاثة وأمهد لها أساساً وأجعلها أصنافاً وأجناساً ، وقد انضم إلى ما وقع في قلبي إلتماس بعض الأحباب فشرعت في هذا الجمع =

اجيب : بأنه كما قال البعض بعدم الفساد ، فقد قال بالفساد طائفة من الفقهاء ، منهم الإمام ابو اليسر ، وصاحب المبسوط ، وقاضى خان ، وشمس الائمة الكردرى (١) ، والإمام حميد [الدين] الضرير (٢) ، وصاحب البدائع (٣) ، وتاج الشريعة ، والقاضى الصدر الشهيد ، وقوام الدين الإتقانى ، وغيرهم حتى قال قوام الدين :

على ذلك أدركت مشائخى بماوراء النهر وغيرهم ، وعدّ منهم عشرة وأكثر ، ولم أر أحدا منهم يرى رفع الأيدى ، بل كلهم كانوا ينكرون ذلك أشد الإنكار ، ويفتون بفساد صلاة من يرفع يديه عند الركوع وعند الرفع منه ، قال : وأنا شاهد على فتاويهم . انتهٰى ، وقد صنف رسالة مستقلة فى ذلك .

ثم اعلم : أنه إذا احتاط جميع مواضع الخلاف ، ولم يعلم منه مفسد ، هل يجوز الإقتداء به بلا كراهة أو بها وهل عليه إساءة أم لا ؟

= وأوضحت أكثر المسائل بالدلائل وسميت المجموع بـ (الذخيرة) وشحنته بالفوائد الكثيرة . انتهٰى

وانظر ترجمة صاحب الذخيرة ومرجعها التامة فى : معجم المؤلفين ج ٣ ص ٧٩٦ .

(١) شمس الائمة الكردرى هو الإمام العلامة محمد بن محمد بن عبد الستار العمادي الكردري ، الحنفي (حافظ الدين ، شمس الائمة ، أبو الوجد) . ولد في ١٨ ذي القعدة سنة ٥٩٩ هـ ، وتوفي ببخارا في ٩ المحرم سنة ٦٤٢ هـ .

من آثاره القيمة : الرد والإنتصار لأبي حنيفة إمام فقهاء الأمصار ، الفوائد المنيفة في الذب عن أبي حنيفة ، وكتاب في حل مشكلات القدوري .

أنظر ترجمته مع مراجعها فى : معجم المؤلفين ج ٣ ص ٦٥٢ .

(٢) هو الإمام علي بن محمد بن إبراهيم البخاري ، الضرير (حميد الدين ، أبو الحسن) عالم جامع للعلوم النقلية والعقلية . توفى سنة ٦٦٦ هـ .

من آثاره : مختصر النحو ، كتاب العروض ، شرح الغاية ، وتعليقات على أصول البزدوي .

أنظر ترجمته وكتبه فى : معجم المؤلفين ج ٢ ص ٤٩١ ، كشف الظنون ١١٣ ، ٥١٩ – ٥٢٠ .

(٣) صاحب البدائع هو الإمام المشتهر فى الآفاق أبو بكر بن مسعود بن أحمد ، علاء الدين ، الكاساني ، نسبة إلى كاسان مدينة في أول بلاد تركستان ، وراء نهر سيحون ، وراء الشاش . توفي بحلب سنة ٥٨٧ هـ .

من آثاره : السلطان المبين في أصول الدين ، وكتابه النافع الذى لا نظير له المسمى بـ « بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع » .

أنظر ترجمته ومراجعها الشاملة فى : الجواهر المضية ج ٤ ص ٢٥ – ٢٨ ، معجم المؤلفين ج ١ ص ٤٤٦ .

ففى الكفاية شرح الهداية ([1]) وشرح المجمع ([2]) ومفتاح السعادة ([3]) أنه مع الكراهة .

وفى فتاوى قاضى خان : ومع هذا لو صلى الحنفى خلف الشفعوى كان مسيئا .

وفى بعض كتب أُخر : وتكره خلف الشافعى المحترز عما يبطلها عندنا وهو المختار .

وفى الفتاوى الغياثية ([4]) :

من مشائخنا من قال : الأولى أن لا يصلى خلفه ، وقال فى الغياثية ايضا : الأولى أن لا يصلى الفجر خلف من يقنت فى الفجر .



القول الثانى : أنه يجوز الإقتداء بالشافعى إذا تعلم منه المخالفة فيما نقدم من الشروط .

وهذا القول مختار ركن الاسلام على السعدى وذكره التمرتاشى وصححه شيخ الاسلام خواهر زاده.

القول الثالث : أنه لا يجوز الإقتداء به مطلقاً ، على ما ذكر فى التجنيس لصاحب الهداية ، من أن الفرض لا يتأدى بنية النفل ، فهذا يقتضى أنه لا يجوز الإقتداء بمن كان فى إعتقاده نفلية الفرض ، فإنه وإن راعى مواضع

([1]) الكفاية شرح الهداية لمولانا جلال الدين بن شمس الدين الخوازمى الكرلاني ، كان عالماً فاضلاً تضرب به الأمثال وتشد إليه الرحال ، أخذ عن حسام الدين الحسن الصغناقى صاحب النهاية شرح الهداية ، عن حافظ الدين الكبير محمد بن محمد البخارى، عن شمس الأئمة محمد بن عبد الستار الكردرى ، عن صاحب الهداية .

أنظر ترجمته فى : الفوائد البهية لمولانا عبد الحىّ اللّكنوى ص ٥٨ – ٥٩ .

([2]) أى شرح مجمع البحرين لإبن فرشته ، وقد مرّ ذكره قريباً .

([3]) لم أطلعت على هذا الكتاب ولا مؤلفه ، مع العلم بأن (مفتاح السعادة) هذا غير من الكتاب المشهور (مفتاح السعادة ومصباح السيادة) فى موضوعات العلوم ، لطاش كبرى زاده المتوفى سنة ٩٦٢ هـ ، الذى ذكره حاجى خليفة فى كشف الظنون ج ٢ ص ١٧٦٢ ، وهناك أيضا كتاب بهذا الإسم للشيخ الأكبر محيى الدين محمد بن على مصنّف الإستمساك ، لكن لا أظن النقل منه ، والكتب بهذا الإسم (مفتاح السعادة) كثيرة من بعد عصر المؤلِّف رحمه الله كما ذكرها إسماعيل باشا البغدادى فى إيضاح المكنون ج ٢ ص ٥٢٤ . والله سبحانه وتعالى أعلم وعلمه أتمّ وأكمل

([4]) قال إسماعيل باشا فى ذيله على كشف الظنون المسمى بإيضاح المكنون ج ٢ ص ١٥٧ :

الفتاوى الغياثية – تأليف داود بن يوسف الخطيب الحنفي ، أولها الحمدلله الأول بلا مطلع البداية أهداه للسلطان أبى المظفر غياث الدين اليمين. انتهى

الخلاف ، لكن لا تؤدى ذلك بنية الفرض ، بل بنية النفل والاستحباب ، فإنه إذا لم يقطع الوتر فأداه ثلاثا بتسليمة واحدة ، فإنه إنما يؤديه بنية النفل ، فلم يصح اقتداء الحنفى به .

وبناءاً على ما نص عليه الإمام الإسبيجابى [١] وصاحب البدائع : أن الصلاة إذا دارت بين الجواز والفساد ، فالحكم بالفساد أولى ، وإن كان للجواز وجوهاً ، وللفساد وجهاً واحداً ، لأن الوجوب كان ثابتا حينئذ بيقين ، فلا يسقط بالشك ، ولأن الإحتياط فيما قلنا ، لأن إعادة ما ليس عليه أولى من ترك ما عليه .

القول الرابع : أنه يجوز الإقتداء به مطلقاً ، قياساً على قول أبى بكر الرازى [٢] فانه قال :

إن إقتداء الحنفى بمن يسلم على رأس الركعتين فى الوتر يجوز . أى الإقتداء به ويصلى معه بقيته ، لأن إمامه لم يخرجه بسلامه عنده ، لأنه مجتهد فيه ، كما لو أقتدى بمن رعف ، فهذا يقتضى صحة الإقتداء به ، وإن علم منه ما يزعم به فساد صلاته ، بعد كون الفصل مجتهدا فيه . قاله المحقق شيخنا كمال الدين إبن الهمام رحمه الله فى فتح القدير .

---

(١) إشتهر بـ (الإسبيجابى) إثنان من علماء الأحناف ، الأول :
الإمام أحمد الإسبيجابي ، وهو أحمد بن منصور الإسبيجابي ، الحنفي ، أبو نصر ، توفى سنة ٤٨٠ هـ .
من تصانيفه: شرح مختصر الطحاوي ، شرح على كتاب الصدر إبن مازه على ترتيب الدباس للجامع الصغير للشيباني ، شرح الكافي ، وفتاوى ، وكلها في فروع الفقه الحنفي.
أنظر ترجمته ومراجعها فى معجم المؤلفين ج ١ ص ٣١١ – ٣١٢ .
والثانى: الإمام علي الإسبيجابي وهو علي بن محمد بن إسماعيل بن علي بن أحمد إبن محمد بن إسحاق الإسبيجابي ، السمرقندي ، بهاء الدين . ولد في جمادى الأولى سنة ٤٥٤ ، وتوفي بسمرقند في ٢٣ ذي القعدة سنة ٥٣٥ .
من تصانيفه: شرح مختصر الطحاوي في فروع الفقه الحنفي ، وفتاوى.
وانظر ترجمته ومراجعها فى معجم المؤلفين ج ٢ ص ٤٩٥ .

(٢) هو الإمام المشتهر ، المجتهد فى المذهب ، أحمد بن علي الرازي ، الحنفي، المعروف بالجصاص ، أبو بكر .
فقيه مجتهد ، ورد بغداد في شبيبته ، ودرس ، وجمع ، وتخرج به المتفقهة ، وتوفي ببغداد في ذي الحجة سنة ٣٧٠ وله ٦٥ سنة .
من تصانيفه : شرح الجامع الكبير لمحمد بن الحسن الشيباني ، شرح مختصر الطحاوي في فروع الفقه الحنفي ، أحكام القرآن ، الفصول في أصول الفقه ، وشرح كتاب الخصاف في أدب القاضي على مذهب أبي حنيفة رحمه الله .
أنظر ترجمته مع مراجعها الوافية فى : سير إعلام النبلاء ج ١٦ ص ٣٤٠ – ٣٤١ ، معجم المؤلفين ج ١ ص ٢٠٢ .

ثم اعلم أن هذا القول إنفرد به الراوى ، وخالف فيه جمهور العلماء لما مرّ ، فلهذا قال صاحبُ الإرشاد: لا يجوز الإقتداء به فى الوتر بإجماع أصحابنا رحمهم الله ، لأن إقتداء المفترض بالمتنفل غير صحيح .

قال الزيلعى (١) فى شرح الكنز : وهو الصحيح ، ولم يعتبر قول الرازى ، لمخالفته الأكثر ، حتى قال صاحب الدرر (٢) : وخلاف الواحد فى مسئلة واحدة لا يكون معتبرا ويكون ردا عليه .

قال المحقق شيخنا كمال الدين ابن الهمام رحمه الله وكان شيخنا سراج الدين قارئ الهداية رحمه الله (٣) يعتقد قول الرازى ، وأنكر مرة بأن يكون فساد الصلاة بذلك مرويا عن المتقدمين ، حتى ذكرته بمسئلة الجامع الصغير المتفق عليها ، فى الذين تحروا في الليلة المظلمة وصلى كل إلى جهة مقتدين بأحدهم ، فإن جواب المسئلة

---

(١) هو الإمام عثمان بن علي الزيلعي ، فخر الدين ، فقيه ، نحوي ، فرضي . قدم القاهرة ، وتوفي بها في رمضان سنة ٧٤٣ هـ .
من تصانيفه : شرح كنز الدقائق وسماه بتبيين الحقائق في عدة مجلدات ، شرح الجامع الكبير للشيباني ، شرح المختار للموصلي، وكلها في فروع الفقه الحنفي ، وبركة الكلام على أحاديث الأحكام الواقعة في الهداية وسائر الكتب .
أنظر ترجمته ومراجعها فى : الفوائد البهية ص ١١٥ – ١١٦ ، معجم المؤلفين ج ٢ ص ٣٦٥ ، ٥٨٦ .

(٢) صاحب الدرر هو الإمام عبد القادر بن محمد بن محمد بن نصر الله بن سالم ، محيي الدين ، أبو محمد ، بن أبي الوفاء ، القرشي، مولده سنة ست وتسعين وستمائة ٦٩٦ هـ ، سمع وحدَّث وأفتى ودرَّس ، وصنف كتاب العناية في تخريج أحاديث الهداية ، وكتاب الوسائل في تخريج أحاديث الدلائل ، ويسميه أيضا المجموع ، وشرح معاني الآثار للطحاوي ، وكتاب الدرر المنيفة في الرد على إبن أبي شيبة عن الإمام أبي حنيفة ، وكتاب ترتيب تهذيب الأسماء واللغات ، وكتاب البستان في فضائل النعمان ، وكتاب الجواهر المضيئة في طبقات الحنفية ، ومختصر في علوم الحديث ، ومسائل مجموعة في الفقه ، وقطعة من شرح الخلاصة في مجلدين ، وتفسير آيات وفوائد ، توفى سابع ربيع الأول سنة خمس وسبعين وسبعمائة ٧٧٥ هـ .
أنظر ترجمته ومراجعها فى : معجم المؤلفين ج ٢ ص ١٩٧ .

(٣) هو الإمام عمر بن إسحاق بن أحمد الغزنوي ، قاضي القضاة ، سراج الدين ، أبو حفص ، الهندي ، تفقه على الإمام وجيه الدين الرازي ، وعلى ركن الدين البداوي ، وسراج الدين الثقفي ، وسمع بمكة على خضر شيخ رباط السدرة ، وأفتى وأشتغل ، وصنف شرح الهداية المسمى بالتوشيح ، والشامل في الفقه فروع مجرد ، وكتاب زبدة الأحكام في اختلاف الأئمة الأعلام ، وشرح الهداية على طريقة الجدل في ستة أجزاء كبار ، وشرح البديع في أربع مجلدات ، وشرح المغني للخبازي في مجلدين ، وله كتاب الغرة المنيفة في ترجيح مذهب أبي حنيفة ، وكتاب في فقه الخلافات ، وشرح الزيادات والجامعين ، ولم يكمل ، وشرح تائية إبن الفارض ، وله كتاب في التصوف ، وغير ذلك ، توفي سنة ثلاث وسبعين وسبعمائة ٧٧٣ هـ .
أنظر ترجمته مع المراجع الكثيرة فى : الفوائد البهية ص ١٤٨ – ١٤٩ ، معجم المؤلفين ج ٢ ص ٥٥٤ .

أن من علم منهم بحاله فسدت صلاته ، لإعتقاده أن إمامه على الخطاء . انتهٰى

والحاصل : أن الإحتجاج بقول الرازى لا يكاد يصحّ لمرجوحيّته ، وقد قالوا المرجوح بمقابلة الرّاجح بمنزلة المعدوم ، فاعلم هذا .

ثم اعلم أن القول الثالث لا يبلغ مبلغ ما قبله فى القوة ، غير أنه أحوط الأقوال ، فمن تمسك به وعمل فيه فقد خرج عن الإشكال بالإجماع بلا نزاع .

فاما القولان الأولان فقويان ، والأول أولى ، لأنه أحوط من الثانى .

وإذا عرفتَ هذا فاعلم : أن جواز الإقتداء على القول الأول متعذر أو متعسّر لعدمه ، أو لقلة رعايته مواضع الخلاف لفساد الزمان وتغيير الأحوال .

وأما على القول الثانى فأيضا كذلك ، لأنه إن لم يشاهد بعضا فقد شاهد بعضا ألبتة ، لأن بعض ما يوجب الفساد عندنا هو سنة عندهم ، كقطع الوتر ، ورفع اليدين عند الركوع ، فأنّٰى يتركه ، فإن ترك فلا كلام ، وإن لم يترك فقد إنعدم الشرط فينعدم المشروط .

فبقى أن يقال أن الفساد بالرفع قول البعض دون البعض .

وأجيب بأنه صار فيه الإختلاف ، وقد قالوا أن درجات الإختلاف أمران : الشبهة والكراهة ، بل الكراهة ثابتة ، وإن لم يشاهد شيئا على الصحيح ، فكيف لم يشاهد مع وجود قولهم : أن الصلاة إذا فسدت من وجه واحد ، يحكم بفسادها وإن كان للجواز وجوه .

فظهر أن الإحتياط فى عدم الإقتداء به مطلقاً بلا خلاف ، إذ ما من صورة إلا وفيها الإختلاف فى الصحة ، أو الفساد ، أو الكراهة ، فالإجتناب عن الكراهة وإحتمال الفساد أولى وأوجب ، والأخذ بالأحوط أجرى وأحق ، والله سبحانه وتعالى ولى الحق .

ولا ريب فيما قلنا إلا لـمن لم يهتد إلى ما ذكرنا ، والمنكر مكابر فعله ، لقلة إنصافه وفرط جوره وإعسافه ، يطعن فى علماء المذهب بالتعصب ، لإشتراطهم الشروط بجواز الإقتداء ، وكفى للبطلان مكابدةً وإفساداً ، زعم طعنه فى مثلهم ، أفلا ينظرون إلى ما رفع إليه قدرهم ، ونشره لهم علمهم فى الآفاق ، وبلغهم مبلغ الإجتهاد ، وأقام الدين بهم فى سائر البلاد ، فكيف يصح الطعن فيهم ، وأنّٰى يسوغ له مخالفتهم ، مع أنّه لم يؤت معشار ما أوتوا من العلم والتقوى ، ولو كان للطعن فيهم مجال ، أو وجه ، لنبّه عليهم أحد من المتأخرين

المحققين ، بل كلهم اذعنوا لأقوالهم ، ولم يسغهم إلا إتباعهم ، لعلمهم براءون عمّا لا يليق بهم ، فلا جرم إنّما ينكر هذه المسئلة عنهم ، مع ما فيها من الإحتياط والخروج من الخلاف ، إلا المائل إلى الهوى ، قليل الورع ، عديم المبالاة بالشرع ، وأمّا من يكون من أهل العلم ، والتقوى ، والورع ، تابعا للشرع ، فيحسن هذه الإحتياط غاية التحسين ، بل يرى إتباعه واجبا ، بل فرض عين .

ومن ذلك ما قاله بعض فضلاء المالكية ، فى رسالته عند نقل الشروط التى ذكرها الأصحاب فى جواز الإقتداء بالمخالف فى المذهب :

﴿ هذا الكلام فى غاية الحسن ، مؤسسا على قواعد مذهب إمامهم ، متحافظين فيه عما يدخل الفساد عليهم فى عبادتهم ، وهذا الواجب الذى لا محيد عنه ، ومن لم يعتقد ذلك ويفعله ، فليس بتابع لإمامه ﴾ . انتهٰى

فهذا طريق علماء الحق والصدق ، ثم إن لم يرجع عن اعتقاده الفاسد ، ولم يقبل قول علماء مذهبه ، فلينظر رغما لأنفه ، مقالة علماء الشافعية وساداتهم ، فقد قال حجة الإسلام الغزالى رحمه الله (١) :

من إعتقد حقية إمام ، ولم يبلغ درجة الاجتهاد ، لا يجوز له العمل بمذهب غيره ، لاسيما فى العبادات ، لأن التقليد فى حقه كالإجتهاد فى حق المجتهد ، حيث لا يجوز له العملَ بخلاف إجتهاده ، فكذلك الملقد فى المذهب .

---

(١) هو الإمام محمد بن محمد بن محمد بن أحمد الطوسي الشافعي ، المعروف بالغزالي (زين الدين ، حجة الاسلام ، أبو حامد) حكيم ، متكلم فقيه ، أصولي ، صوفي ، مشارك في أنواع من العلوم .

ولد بالطابران إحدى قصبتي طوس بخراسان ، سنة ٤٥٠ ، وقيل ٤٥١ هـ ، وطلب الفقه لتحصيل القوت ، ثم ارتحل إلى أبي نصر الإسماعيلي بجرجان ، ثم إلى إمام الحرمين أبي المعالي الجويني بنيسابور ، فاشتغل عليه ولازمه ثم جلس للإقراء ، وحضر مجلس نظام الملك ، فأقبل عليه نظام الملك ، فعظمت منزلة الغزالي ، وندب للتدريس بنظامية بغداد ، ثم أقبل على العبادة والسياحة ، فخرج إلى الحجاز فحج ، ورجع إلى دمشق فاستوطنها عشر سنين ، ثم سار إلى القدس والإسكندرية ، ثم عاد إلى وطنه بطوس ، ثم إن الوزير فخر الدين ابن نظام الملك طلبه إلى نظامية نيسابور فأجاب إلى ذلك ، ثم عاد إلى وطنه ، وابتنى إلى جواره خانقاه للصوفية ومدرسة للمشتغلين ولزم الإنقطاع ، وتوفي بالطابران سنة ٥٠٥ هـ .

من تصانيفه الكثيرة: إحياء علوم الدين ، الحصن الحصين في التجريد والتوحيد ، تهافت الفلاسفة ، الوجيز في فروع الفقه الشافعي ، والمستصفى في أصول الفقه .

أنظر ترجمته مع المراجع الكافية الشافية فى : معجم المؤلفين ج ٣ ص ٦٧١ – ٦٧٣ .

وقال الرافعى ([١]) : المذهب أن لا يصح إقتداء أحد بمن يعتقد بطلان صلاته .

وقال الشيخ عزّ الدين بن عبد السلام ([٢]) : إذا تشوّش قلب المقتدى ، فانتفى خشوعه بواسطة إقتدائه بمن لا يوافقه فى المذهب ، فالإنفراد له أولى من ذلك الإجتماع .

وقال أبو إسحاق الشافعى الإسفرائينى ([٣]) : الصلاة منفردا افضل من الصلاة خلف الحنفى.

وقال النووى ([٤]) : وهذا تفريع على صحّة الصلاة خلف الحنفى .

([١]) هو الإمام عبد الكريم بن محمد بن عبد الكريم بن الفضل بن الحسين بن الحسن الرافعي ، القزويني الشافعي ، أبو القاسم ، فقيه ، أصولي ، محدث ، مفسر ، مؤرخ . توفي بقزوين في ذي القعدة سنة ٦٢٣ هـ ودفن بها .

من تصانيفه : فتح العزيز على كتاب الوجيز للغزالي في ١٦ مجلدا ، شرح المحرر وسماه الوضوح وكلاهما في فروع الفقه الشافعي ، شرح مسند الشافعي في مجلدين ، الترتيب ، والأمالي الشارحة على مفردات الفاتحة ، التدوين في اخبار قزوين، وله شعر .

أنظر ترجمته المفصلة مع المراجع فى : معجم المؤلفين ج ٢ ص ٢١٠ .

([٢]) هو الإمام عبد العزيز بن عبد السلام بن أبي القاسم إبن الحسن بن محمد بن المهذب السلمي ، الدمشقي ، الشافعي ، المعروف بإبن عبد السلام ، عزّ الدين ، أبو محمد ، فقيه ، مشارك في الأصول والعربية والتفسير .

ولد بدمشق سنة ٥٧٧ أو ٥٧٨ هـ ، وتفقه على فخر الدين عساكر ، وقرأ الأصول والعربية ، وسمع كثيرا ، ودرس وافتى ، وبرع في المذهب الشافعي ، وبلغ رتبة الإجتهاد ، وولي الخطابة بجامع دمشق والحكم بمصر ، وتوفي بالقاهرة في جمادى الأولى سنة ٦٦٠ هـ .

من مصنفاته : القواعد الكبرى في أصول الفقه ، الغاية في إختصار النهاية في فروع الفقه الشافعي ، شرح السول والأمل في علمي الأصول والجدل ، تفسير القرآن ، الإشارة إلى الإيجاز في بعض أنواع المجاز ، العماد في مواريث العباد ، والنخبة العربية في الفاظ الآجرونية .

أنظر ترجمته مع المراجع الكثيرة فى : شذرات الذهب ج ٧ ص ٥٢٢ – ٥٢٣ ، معجم المؤلفين ج ٢ ص ١٦٢ .

([٣]) هو الإمام إبراهيم بن محمد بن إبراهيم بن مهران الإسفراييني ، أبو إسحاق ، ركن الدين ، الفقيه ، الشافعي ، المتكلم ، الأصولي . توفي بنيسابور سنة ٤١٨ هـ .

من مؤلفاته : جامع الحلي في أصول الدين والرد على الملحدين في خمس مجلدات ، وتعليقة في أصول الفقه .

أنظر ترجمته فى : سير إعلام النبلاء ج ١٧ ص ٣٥٣ ، ت = ٢٢٠ ، معجم المؤلفين ج ١ ص ٥٦ .

([٤]) هو الإمام الجليل ، يحيى بن شرف بن مري بن حسن إبن حسين بن محمد بن جمعة بن حزام النووي ، الدمشقي ، الشافعي =

وقال صاحب الأنوار : ([1]) ولو علم الشافعي ، أن الحنفي حافظ على جميع ما يعتقد الشافعي وجوبه ، ولم يعلم منه الوقوع في الخلاف والإختلاف ، وحسن الظن فيما بينه وبين الله تعالى ، صح إقتداءه به وإلا فلا .

فهذه أقوال علماء المذهبين ، ومشائخ الفريقين ، والله الموفق وهو يهدى السبيل ، ولا هادى لمن أضلّ ، ولو تليت عليه التوراة والإنجيل!

ثم إذا ثبت هذا ، يعنى الفساد أو الكراهة على كل حال ، إذ لا يخلف الحال عن أحدهما بلا مقال ، فلو صلى خلفه فعليه إعادتها بلا كراهة ، لما قالوا : كل صلاة أديت على وجه الكراهة ، تعاد على غير وجه الكراهة ، فإن كانت كراهة تحريم فحتما ، وأما على القول بالتنزيه فندبا ، وأما على القول بالإفساد فلا إشكال .



وممّا يتّصل بهذا ما تفعله العوام من الإقتداء بالمخالف أولاً وبالموافق ثانيا ، وهو على وجوه :

الأول : أن يقتدى بالأول مفترضا ، وبالثاني كذلك ، فهذا غير مشروع قصدا ، لأنه تكرار الفرض وهو منهى عنه ، ومكروه بلا عذر .

= محيي الدين ، أبو زكرياء ، فقيه ، محدث ، حافظ ، لغوي ، مشارك في بعض العلوم .

ولد بنوى من أعمال حوران في العشر الأول من المحرم سنة ٦٣١ هـ ، وقرأ القرآن بها ، وقدم دمشق ، فسكن المدرسة الرواحية ، ولازم كمال الدين إسحاق المغربي ، وقرأ الفقه وأصوله ، والحديث وأصوله ، والمنطق ، والنحو ، وأصول الدين ، وسمع الكثير من الرضي بن البرهان ، و عبد العزيز الحموي وغيرهما ، وولي مشيخة دار الحديث بعد شهاب الدين أبي شامة ، وتوفي بنوى في ١٤ رجب سنة ٦٧٧ هـ ، ودفن بها .

من تصانيفه الكثيرة : الاربعون النووية في الحديث ، روضة الطالبين وعمدة المفتين في فروع الفقه الشافعي ، تهذيب الأسماء واللغات ، التبيان في آداب حملة القرآن ، ورياض الصالحين . وغيرها

أنظر ترجمته مع مراجعها الحافلة فى : معجم المؤلفين ج ٤ ص ٩٨ .

قلت : وقد أفرد ترجمة هذا الشيخ الجليل ، الذى هو علم من أعلام الإسلام ، كثير من العلماء بالتصنيف قديماً وحديثاً ، منها: المنهل العذب الروي في ترجمة قطب الأولياء النووي للسخاوي ، ومنها : تحفة الطالبين في ترجمة الإمام النووي لإبن العطار ، ومنها : المنهج السوي في ترجمة النووي للإمام السيوطى رحمه الله .

وأنظر أيضا : العلماء العزّاب الذين آثروا العلمَ على الزوّاج، للشيخ العلامة عبد الفتاح أبو غدّة ، رحمهم الله تعالى .

([1]) لم أجد التعريف بالكتاب وبمؤلفه ، ولعل الله يحدث بعد ذلك أمراً .

فإن قيل : هذا عذر ، وهو الشك فى الأول .

أجيب عنه : بأن الشروع فى الصلاة مع الإحتمال للفساد أو الكراهة قبيح ومكروه ، لما فيه من تعرض العمل على البطلان أو النقصان ، فتعين الإحتراز عنه .

الثانى : أن يقتدى بالأول بنية السنة ، وبالثانى بنية الفرض ، وهو أيضا لا تخلو عن الفساد أو الكراهة ، لعدم سقوط النية ، لما قال فى منهاج المصّليين ([1]) :

إذا صلّى التراويح مقتدياً بمن يصلى المكتوبة ، أو بمن يصلّى نافلة غير التراويح ، إختلفوا فيه ، والصحيح أنه لا يجوز ، قال فعلى هذا ينبغى أن لا يجوز أداء السنة خلف من يصلى المكتوبة .

الثالث : أن يقتدى بالأول متنفلا ، وبالثانى مفترضًا ، وهو أيضا لا يخلو عن الكراهة ، فكان الإحتراز عن جميع ذلك أولى وأفضل ، كما لا يخفى إلا على من غلب عليه الهوٰى ، خصوصًا إذا فعل ذلك فى أوقات الكراهة ، وتحريم التنفل بثلاث فى المغرب ، على ما صرح به قاضى خان فى شرح الجامع الصغير ، وكذا تحرم مخالفةَ الإمام إن ضم رابعة .

([1]) قال العبد الضعيف محمد أحمد الحقّانى الأفغانى القندهارى ، عافاه الله تعالى :

لم أجد كتاباً مسمى بـ (منهاج المصلين) بالبحث فى الكتب الخاصة بأسماء الكتب . وهناك كثير من الكتب فى الفقه الحنفى بإسم المنهاج ، وليس فيها إسم (منهاج المصلين) .

فمنها : منهاج الشريعة في شرح منار الأنوار للنسفى ، صنّفه العلامة رسولا بن أحمد بن يوسف التباني ، جلال الدين ، الحلبي ، ثم القاهري ، الحنفي ، توفي بمصر سنة ٧٩٣ ثلاث وتسعين وسبعمائة . (أنظر : هدية العارفين ج ١ ص ١٩٣) .

ومنها : منهاج الدراية في فروع الفقه الحنفى للإمام عمر بن محمد بن أحمد بن إسماعيل بن محمد إبن لقمان النسفي ، نجم الدين ، أبو حفص ، السمرقندي ، الفقيه ، الحنفي ، ولد سنة ٤٦١ ، وتوفي بسمرقند سنة ٥٣٧ سبع وثلاثين وخمسمائة ، وهو مصنف التاريخ الكبير (القند في تاريخ علماء سمرقند) في عشرين مجلداً . (أنظر : هدية العارفين ج ١ ص ٤١٥) .

ومنها : منهاج الفتاوى للعلامة عمر بن محمد بن عمر بن محمد بن محمد بن أحمد الأنصاري ، شرف الدين ، أبو حفص ، العقيلي ، البخاري ، الحنفي ، المتوفى سنة ٥٧٦ ست وسبعين وخمسمائة . (أنظر : هدية العارفين ج ١ ص ٤١٦) .

ومنها : المنهاج في الأصول والفروع على مذهب أبي حنيفة ﷺ ، للإمام عمر بن القاضي مجد الدين أحمد بن هبة الله ، إبن جرادة، العقيلي ، كمال الدين ، أبو حفص ، الحلبي ، الحنفي ، المعروف بإبن العديم ، ولد سنة ٥٨٦ وتوفي سنة ٦٦٠ ستين وستمائة . (أنظر : هدية العارفين ج ١ ص ٤١٧) . والله أعلم

فإن قلت : كان الحسن يشارك الإمام ، ويصلى بعد فراغه الرابعة ، كما روى عن أبى يوسف رحمه الله .

قلنا : لا يحسن ذلك لأن فيه مخالفة الإمام .

فإن قلت : هذه مخالفة بعد الفراغ ، فلا بأس بها ، كمقيم اذا اقتدى بمسافر ثم يصلى الركعتين بعد فراغ الإمام .

قلنا : صلاة المسافر والمقيم كانت واحدة ، بالنظر إلى الأصل ، وههنا ليس كذلك ، كذا فى العناية شرح الهداية (1) .

فإن قيل: إذا كانت الصلاة مع الجماعة الأولى مكروهة أو فاسدة ، ومخالفة الجماعة أيضا مكروهة ، والتأخر عنها كذلك ، فما المخلص ؟

---

(1) صاحب العناية هو الإمام الهمّام ، البحر القمقام ، العلاَّمة محمد بن محمد بن محمود بن أحمد البابرتي ، الرومي ، الحنفي ، أكمل الدين، فقيه ، أصولي ، فرضي ، متكلم ، مفسر ، محدث ، نحوي ، بياني .

قال اللكنوى فى الفوائد : إمام ، محقق ، مدقق ، متبحر ، حافظ ، ضابط ، لم تر الأعين فى وقته مثله ، كان بارعا فى الحديث وعلومه ، ذا عناية باللغة ، والنحو ، والصرف ، والمعانى ، والبيان .

وقال أيضاً : البابرتى بفتح الموحدتين بينهما ألف ، وسكون الراء المهملة ، بعدها مثناة فوقية ، نسبة إلى بابرتا بالقصر ، قرية بنواحى بغداد ، كذا ضبطه الشيخ ولى الله الدهلوى فى رسالته الإنتباه ، والسيوطى فى لب اللباب . انتهٰى

وقال فيه الحافظ ابن حجر : كان قويّ النفس ، عظيم الهمّة ، مهابا عفيفا فى المباشرة ، عُرض عليه القضاء مراراً فامتنع . آهـ

ولد سنة بضع عشرة وسبعمائة ، ورحل إلى حلب فأقام بها مدة ، ثم قدم القاهرة ، فأخذ عن شمس الدين الأصبهاني وغيره ، وسمع من ابن عبد الهادي والدلاصي وغيرهما ، وكان أرباب المناصب يعظمونه ، وتوفي بمصر في ١٩ رمضان سنة ٧٨٦ هـ، وحضر السلطان فما دونه جنازته .

من تصانيفه الكثيرة : العناية في شرح الهداية في فروع الفقه الحنفي ، السراجية في الفرائض ، حاشية على الكشاف للزمخشري في التفسير ، شرح مشارق الأنوار النبوية من صحاح الأخبار المصطفوية للصغاني وسماه تحفة الأبرار في شرح مشارق الأنوار ، وشرح الفقه الأكبر المنسوب للإمام أبي حنيفة رضي الله عنه ، النكت الظريفة فى ترجيح مذهب الإمام أبى حنيفة .

قلت : سنقوم إنشاء الله تعالى بإخراج رسالته هذه الأخيرة (النكت الظريفة) . والله المستعان

أنظر ترجمته مع المراجع الكثيرة فى : الفوائد البهية ص ١٩٥ – ١٩٩ ، معجم المؤلفين ٣ ص ٦٩١ ، شذرات الذهب ج ٨ ص ٥٠٤ – ٥٠٥ ، إنباء الغمر بأنباء العمر ج ١ ص ٢٩٨ .

أجيب : بأن مخالفة المخالف فى المذهب ليس بمكروه ، فلا يصل لإحتمال الفساد أو الكراهة ، بل الصلاة خلف الموافق الثانى أولى وأفضل من الأول ، لأنه لا خلاف في صحة الإقتداء به ، بخلاف الأول ، وإنّما تكره المخالفة ، إذا اقيمت الصلاة الأولى على وجه السنة فى حقه ، أما إذا لم يقم كذلك لا تكره ، لأن جماعة المخالف لم تقم على وجه السنة والفريضة فى حق الحنفى لأنها فرادى .

وأمَّا تأخير المغرب إنما يكره إلى إشتباك النجوم ، والذى ذكرناه ههنا أولى بذلك من ذلك ، لأن عذره فى الثانى أعظم من الأول ، لعدم صلاحية الإقتداء بالمخالف من جهة الفساد أو الكراهة ، وكل ذلك مانع ، وههنا عذر ظاهر ، لا ينكره عالم ماهر بل جاهل فاجر ، والضرورات تبيح المحظورات ، ولا عيب على المعذور والله عليم بذات الصدور ، والحمد لله وحده ، وصلى الله وسلم على من لا نبى بعده .

ووافق الفراغ من نسخ هذه الرسالة وقت عصر يوم الأربعاء المبارك ، رابع عشر محرم الحرام ، إفتتاح سنة تسع وتسعين وألف (١٠٩٩) ، ([1]) أحسن الله ختامها ، وغفر الله لكاتبها ومالكها وقارئها ، وللمسلمين والمسلمات ، والمؤمنين والمؤمنات ، الأحياء منهم والأموات ، إنك سميع قريب مجيب الدعوات . آمين

وصلى الله على سيدنا محمد النبى الأمى ، وعلى آله ، وأصحابه ، وأزواجه ، وذريته ، وعترته ، وأهل بيته الطيبين الطاهرين ، وعلى من والاهم إلى يوم الدين . والحمد لله رب العالمين . آمين



([1]) وقد فرغت ، ولله الحمد والمنة ، من كتابة هذه الرسالة النافعة وتهذيبه بتاريخ الأربعاء ، ١٨ شعبان ، ١٤٢٩ هـ .

محمَّد أحمد الحقَّانى الأفغانى ، عافاه الله تعالى وغفر له ذنوبه ، آمين

ثبت المصادر والمراجع فى التحقيق

* **الأعلام** : لخير الدين الزركلى ، الطبعة الخامسة عشرة ، دار العلم للملايين ، بيروت ، أيّار ٢٠٠٢ .

* **الإعلام بتصحيح كتاب الأعلام** : لمحمد بن عبد الله الرشيد ، مكتبة الإمام الشافعى ، الرياض ، دار ابن حزم ، بيروت ، ١٤٢٢ هـ = ٢٠٠١ م .

* **إنباء الغمر بأنباء العمر** : لشيخ الإسلام الحافظ ابن حجر العسقلانى ، تحقيق : الدكتور حسن الحبشى ، لجنة إحياء التراث الإسلامى ، القاهرة ، ١٣٨٩ هـ = ١٩٦٩ م .

* **الأنساب** : للإمام أبى سعد عبد الكريم بن محمَّد بن منصور التميمى السَّمعانى ، تحقيق : الشيخ عبد الرحمٰن بن يحيى المعلمى اليمانى رَحِمَهُ اللَّهُ ، مكتبة ابن تيمية ، القاهرة ، الطبعة الثانية ، ١٤٠٠ هـ = ١٩٨٠ م .

* **إيضاح المكنون فى الذيل على كشف الظنون عن أسامى الكتب والفنون** : للفاضل إسماعيل باشا بن محمد أمين بن مير سليم البابانى البغدادى ، دار إحياء التراث العربي ، بيروت ، بدون تاريخ ، بدون رقم الطبعة .

* **تاج التراجم فى طبقات الحنفية** : لابن قطلوبغا، أبو طاهر محمد بن يعقوب ، مطبعة العانى بغداد ، ١٩٦٢م .

* **الجواهر المضية فى طبقات الحنفية** : لمحيى الدين أبى محمد عبد القادر بن محمد بن محمد بن نصر الله ابن سالم بن أبى الوفاء القرشى الحنفى ، تحقيق : الدكتور عبد الفتّاح محمد الحلو ، الطبعة الثانية ، هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان ، ١٤١٣ هـ = ١٩٩٣ م .

* **رد المحتار على الدر المختار** : لخاتمة المحققين ، محمد أمين الشهير بإبن عابدين الحنفى ، بدون تحقيق ، دار الفكر ، بيروت ، بدون رقم الطبعة ، ١٤١٥ هـ = ١٩٩٥ م .

* **سير أعلام النبلاء** : للإمام شمس الدّين محمد بن أحمد بن عثمان الذّهبىّ . ٢٨ مجلداً ، تحقيق : تحت إشراف الشيخ شعيب الأرنؤوط ، وتفصيل الأجزاء كما يلى :

الجزء الأوّل والسادس : حسين الأسد ، الجزء الثانى ، والخامس ، والتاسع عشر : شعيب الأرنؤوط ، الجزء الثالث ، والرّابع ، والثامن ، والعاشر ، والسَّابع عشر ، والثَّامن عشر ، والعشرون : محمد نعيم العرقسوسى ، ومأمون صاغرجى ، الجزء السابع ، والثالث عشر : على أبو زيد ، الجزء التاسع : كامل الخرّاط ، الجزء الحادى عشر ، والثانى عشر : صالح السَّمر ، الجزء الرابع عشر ، والسَّادس عشر : أكرم البوشي ، الجزء الخامس عشر : إبراهيم الزيبَق ، الجزء الحادى والعشرون ، والثانى والعشرون ، والثالث والعشرون ، والسادس والعشرون ، والسابع والعشرون (الخاصان بالسيرة النبوية) ، والثامن والعشرون (الخاصّ بسير الخلفاء الرّاشدون) : الدكتور بشّار عَوّاد معروف ، والدكتور مُحيى هلال السرحان ، الجزء الرابع والعشرون ، والخامس والعشرون : الفهارس الفنية للكتاب ، بدون ذكر صاحب الإعداد .

الطبعة الثالثة ، مؤسسة الرسالة ، بيروت ، ١٤٠٥ هـ = ١٩٨٥ م .

* **شذرات الذهب فى أخبار من ذهب** : للإمام شهاب الدين ، أبى الفلاح ، عبد الحىّ بن أحمد بن محمَّد ، العكرىّ ، الحنبلى ، الدّمشقى . تحقيق : عبد القادر الأرناؤوط ، ومحمود الأرناؤوط ، الطبعة الأولى ، دار إبن كثير ، دمشق ، بيروت ، ١٤٠٦ هـ = ١٩٨٦ م .

* **شرح أدب القاضى للخصاف** : برهان الأئمة ، حسام الدين ، عمر بن عبد العزيز بن مازة ، البخارى ، المعروف بالصدر الشهيد ، تحقيق : مُحيى هلال السرحان ، إحياء التراث الإسلامى ، العراق ، الطبعة الأولى ، مطبعة الإرشاد ، بغداد ، ١٣٩٧ هـ = ١٩٧٧ م .

* **العلماء العزَّاب الذين آثروا العلمَ على الزوّاج** : للشيخ العلامة عبد الفتاح أبو غدّة ، الطبعة الرّابعة ، صوّره من طبعة بيروت المكتبة الغفوريّة العاصميّة بكراتشى ، باكستان ، بدون تاريخ .

* **الفتاوى التاتارخانية** : العلاّمة عالم بن العلاء ، الأنصارى ، الإندريتى ، الدّهلوى ، تحقيق : القاضى سجَّاد حُسين ، تصحيح : فؤاد ناصر ، الطبعة الأولى ، صوّرها من طبعة دار إحياء التراث العربى ببيروت قديمى كتب خانه ، كراتشى ، باكستان ، بدون تاريخ .

* **الفوائد البهية فى تراجم أئمة الحنفية** : للإمام أبى الحسنات ، محمد عبد الحىّ ، اللكنوى الهندى ، بدون رقم الطبع ، نور محمد كارخانه تجارتِ كُتب ، آرام باغ ، كراتشى ، باكستان ، ١٣٩٣ هـ .

* **كشف الظنون عن أسامى الكتب والفنون** : لملا كاتب چلپى ، الشهير بحاجى خليفة ، النسخة المصوّرة عن طبعة إستانبول ، بدون التاريخ ورقم الطبع .

* **الكواكب السائرة بأعيان المائة العاشرة** : للشيخ نجم الدّين ، محمد بن محمد الغزّى ، تحقيق : خليل المنصور ، الطبعة الأولى ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، ١٤١٨ هـ = ١٩٩٧ م .
* **اللُّباب فى تهذيب الأنساب** : لعزّ الدين أبى الحسن ، علىّ بن محمد بن محمد بن عبد الكريم ، ابن الأثير ، الجزرىّ ، تحقيق : عبد اللطيف حسن عبد الرحمن ، الطبعة الأولى ، دار الكتب العلمية ، بيروت ، ١٤٢٠ هـ = ٢٠٠٠ م .
* **معجم البلدان** : للشيخ الإمام شهاب الدّين ، أبى عبد الله ، ياقوت بن عبد الله ، الحموى ، الرّومى ، البغدادى ، بدون تحقيق ، الطبعة الأولى ، دار صادر ، بيروت ، ١٣٩٧ هـ = ١٩٧٧ م .
* **معجم المطبوعات العربية** : ليوسف أليان سركيس ، تحقيق : أحمد باشا تيمور ، طبعة : مكتبة آية الله العظمى المرعشي النجفي ، بدون تاريخ ، بدون رقم الطبعة .
* **معجم المؤلفين تراجم مُصنِّفى الكتب العربيّة** : لعمر رضا لكحالة ، الطبعة الأولى ، مؤسَّسة الرسالة ، بيروت ، ١٤١٤ هـ = ١٩٩٣ م .
* **النور السافر عن أخبار القرن العاشر** : لعبد القادر العيدروس ، الطبعة القديمة .
* **هدية العارفين ، أسماء المؤلفين والمصنفين** : لإسماعيل باشا البغدادى ، طبعة مصورة عن طبعة إستانبول ، ١٩٥٥ م .
* **وفيات الأعيان وأنباء أبناء الزّمان** : لأبى العبَّاس ، شمس الدين ، أحمد بن محمد بن أبى بكر بن خلكان ، تحقيق : الدكتور إحسان عباس ، دار صادر ، بيروت ، بدون التاريخ ، بدون رقم الطبعة .

❊ ❊ ❊

الفهرس [1]

[1] علامة (ت) تشير إلى أن المبحث فى التعليق .

فتاوی
دارالعلوم
مدلل و مکمل
دیوبند
پښتو
۴



دموجوده وخت په دار الافتآء کی دمروجه نسخو مطابق، دنوی تخریج سره اعلیٰ کمپوټري چاپ

فتاویٰ دار العلوم دیوبند

مُدلّل و مکمّل

په آسانه او روانه کندهارۍ پښتو

خلورم جلد ۴

کتابُ الصّلٰوة (رُبعِ سوم)

تالیف: مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی ؒ
((ددار العلوم دیوبند اول مفتی))

په لار ښوونه د: حکیم الاسلام حضرت مولانا قاری محمدطیّب صاحب ؒ (مهتمم دارالعلوم دیوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفیر الدین صاحب، رفیقِ شعبۀ ترتیبِ فتاوٰی دار العلوم دیوبند

اضافه تخریج جدید: مولانا مفتی محمد صالح، رفیقِ دارالافتآء جامعة اسلامیه، بنوری ټاؤن کراچی

ژباړه ، تعلیق او تحقیق: مولانا الحافظ محمّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانیه، پشاور

زیرِ نګراني: شیخ الحدیث حضرت مولانا الشیخ عبد القادر النهرکاریزي (دامت برکاتهم العالیة)

مکتبهٔ حبیبیه

کاسي روډ، کوئټه ☏ : 0812662448

al-ilmcorp@hotmail.com

لومړی چاپ

۱۴۳۰ ربیع الاول هـ \ مارچ 2009 م

Maktabah Habibiyah | مکتبه حبيبيه
Publishing Organization | خپروونکی اداره

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارگ بازار کندهار ، افغانستان ، گرځنده تليفون

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجدِ نور ، کوئټه ، تليفون شميره

AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپيوټرز، کوئټه پاکستان، گرځنده تليفون شميره

دفتاوی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست، جلد ❹

مخ	مضمون
۲۸۲	دلمانځه او روژي قضا
۲۸۲	دقضا سويو لمونځونو راګرځول
۲۸۲	دقصر لمانځه ادا به قصر وي
۲۸۲	ايا دقضا لمونځ په جومات كي كول درست نه دى
۲۸۳	دقضاء عُمْري مروجه طريقه ثابته نه ده بې اصله ده
۲۸۳	داسقاط حيله
۲۸۴	دترتيب ښتن به قضا سوي لمونځونه كوي اګركه جمعه ورځخه تيره سي
۲۸۴	دقضا سويو لمونځونو دكولو ترتيب
۲۸۴	دهيرو قضا سويو ډيرو لمونځونو كول
۲۸۵	له چا څخه چي ديوه كال لمونځونه قضا سي پر هغه ترتيب لازم نه دى
۲۸۶	څو شپي يي مسافرانه لمونځ كوى بيا معلومه سوه چي دى مسافر نه وو نوڅه وكړي؟
۲۸۶	كه په وخت كي دټولو قضايي لمونځونو په مرتب ډول دراګرځولو ګنجايش نه وي څه به كوي؟
۲۸۶	په قضا كي دترتيب مطلب څه دى؟
۲۸۷	دقضايي لمونځونو دراګرځول سمه طريقه څه ده؟
۲۸۸	په يواځي توبه قضايي لمونځونه نه بخښل كيږي بلكه راګرځول يي ضروري دي
۲۸۹	دډيرو فوت سويو لمونځونو دادا كولو لپاره تراويح پريښودل
۲۸۹	دډيرو فوائتو دادا كولو په مهال كه يو لمونځ فوت سي څه حكم لري؟
۲۹۰	په عمري قضا لمانځه كي دقرآئت حكم
۲۹۰	فوائت ادا كول ضروري دي ليكن دنفلو پريښودلو اړتيا نسته
۲۹۰	دمازديګر او سهار قضايي راوړل
۲۹۱	دترتيب ښتن دي دجمعي له لمانځه مخكي قضا راوګرځوي
۲۹۱	دقضا عمري مروجه طريقه ثابته نه ده
۲۹۲	په يوه وخت كي هرڅو قضايي راوړلاى سي
۲۹۲	دقضا راګرځولو لپاره دي سنت مؤكد نه پريږدي
۲۹۲	په قضايي لمونځونو كي هغه وخت ترتيب نسته چي هغه صاحب ترتيب نه وي

دڅلورم جلد فهرست ختم سو

الاحد، ۰۷ جمادی الثانیة، ۱۴۳۰ ہجری ق

* * *

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

نحمده ونصلي على رسوله الكريم .

دالله تعالى فضل اوكرم دى چي هغه ما خاكسار ته ددين قيم او ددينې علومو دخدمت شوق را نصيب كړى دى. دفتاوى دا څلورم جلد چي وړاندي كوم زړه مي له خوښى، ډاډ او مننې څخه ډك دى، دزړه له كومي دعا كوم چي دا حقير خدمت دقبوليت شرف حاصل كړي او په راتلونكي كي دمدارجو ځينه جوړه سي.

دفقهي دنوي ترتيب او تدوين او دنوو مسائلو دحل كولو داړتيا احساس مخ په عاميدو دى.

عزتمندو عالمانو په دي هكله لومړنى هڅي هم پيل كړي دي، په دي لړۍ كي تر ټولو دمخه په هندوستان كي دتحقيقات شرعيه بنسټ كښېښودل سو، چي دهغه دصدارت فرائض زموږ دشورى دمجلس وتلي غړي، حضرت مولانا سيد شاه منة الله رحماني دامت بركاتهم دبهار او اړيسي دشريعت امير ترسره كول، هغه چي سره له دي چي يو عمل لرونكى عالم وو، داوږده فكر، او ژور نظر څښتن او له موجوده غوښتنو څخه په بشپړه توګه خبردار وو.

بيا په پاكستان كي ديوه مجلس قيام په عمل كي راغى، او په پاى كي دمصر دحكومت تر كتنې لاندي د (مجمع البحوث الإسلامية) ناسته په قاهره كي راوغوښتل سوه، چي په هغې كي ددوه څلوېښتو ملكونو عالمانو برخه اخيستي وه، په دي اجلاس كي دهندوستان له لوري ددار العلوم ديوبند سرپرست حكيم الإسلام حضرت مولانا محمد طيب صاحب، مولانا سيد شاه منة الله رحماني او مولاناسيد احمد اكبر ابادي دامت بركاتهم شريك سول او دكتاب اوسنت اوتاريخ په رڼا كي هغوى خپله دقيقه رايه وړاندي كړه، لنډه دا چي ددار العلوم ديوبند مشرانو دموجوده حالاتو معاينه واخستله او چي كم څه په اعتدال سره كولى سي هغه كوي، او په راتلونكي كي به يي هم كوي ريشتنا خو داده چي دار العلوم ديوبند ته الله ﷻ ددين او فقهي دبصيرت اوخدمت كم معتدل مزاج وربخښلى دى هغه ته په سم ډول په كتلو سره ددي كار دترسره كولو حق همدوى ته حاصل دى ، او هيڅ شك نسته چي دار العلوم دسلو كلونو له نورو خدماتو سره سره دا

عظيم الشان خدمت هم په څه ناڅه درجه کي ترسره کوي زموږ دفتاواوو تازه لړۍ چې لـه دار العلوم څخه خپريزى دهغي له مطالعي سره به تاسو وپوهيږى چي ددار العلوم دار الافتاء دزړو مسائلو سره دنويو مسائلو دحل کولو فريضه هم په ښه توګه تر سره کوي په راتلونکي کي به په دي موضوع باندي دړنا اچولو کوشش وکړل سى پـه پـاى کـي دعـاده چي اى بي نيازه ربه، دخپل حقير بنده خدمت قبول کړى او دا خدمت دده لپاره داخرت توښه جوړه کړى.

ددعا غوښتونکى:

محمد ظفير الدين غفرالله له

دفتاوى دترتيب څانګه دار العلوم ديوبند ، دربيع الثاني ٢٠ \ ١٣٨٤ هـ ق

* * *

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى اٰله وصحبه اجمعين .

اَلبَابُ السّابِعُ

فيما يفسد الصّلوة وما يكره فيها

اول فصل: مفسدات الصلوة (يعنى دلمونځ ماتونکى شيان)

که دبهرنى سړى په وينا باندى امام يو څه وکړى نو لمونځ به فاسد شي اوکه نه؟ سوال:

(۱۳۰۲) دمازديگر په وخت کى يوه اٰمى سړى لمونځ ورکوى امام په جهر سره قرات ولوستى دلمانځه څخه دباندي يو سړى په چيغى سره وويل چى کرار کرار يې وايه دمازيگر په وخت کى قراءت په زوره نه ويل کيږى چى دا يى واوريدل نوامام کرار کرار ويل شروع کړل اولمونځ يى ختم کړى لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: دلمونځ څخه دباندى سړى ته ښوول نه وه پکار ليکن که چيرى امام دهغه دوينا څخه وروسته په لږ توقف سره کرار ويل شروع کړى وى نو لمونځ صحيح دى اوکه چيرى سمدستى يى دهغه په وينا سره کرار ويل شروع کړى وى نولمونځ به صحيح نه وى دهغه اعاده کول پکاردى په درمختار کى دى: حتى لو امتثل امر غيره فقال له تقدم فتقدم او دخل فرجة الصف احد فوسع فسدت بل يمكث ساعة ثم يتقدم برأيه (۱) الخ. فقط

چى زنگون يى ښکاري نو لمونځ کيږى اوکه نه؟ سوال: (۱۳۰۷) زنگون دبدن په هغه حصه کى شامل دى اوکه نه دکمى پټول چى لازم دى او آيا په داسى جامه کى يا په داسى حالت کى چى زنگون ښکاريږى لمونځ اداء کيږى اوکه نه؟

جواب: صحيح داده چى رُکبه يعنى زنگون په عورت کى داخل دى ددى پټول ضرورى دى: فالركبة من العورة لرواية الدار قطنى ماتحت السرة الى الركبة من العورة الخ ولحديث علي ﷺ قال قال رسول الله ﷺ الركبة من العورة. (۲) ليکن په دى کى اختلاف دى چى زنگون سره دورانه يواندام دى اوکه دادواړه بيل بيل دوه اندامونه دى ، نو دمخکنى روايت په بناء باندى صرف دزنگون په لمانځه کى په ښکاره کيدلو سره لمونځ نه ماتيږى ولى چى صرف زنگون دورون څلورمه حصه نه ده. او مُفسِد دصلوة کشف درُبع

---

(۱). الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج۱ ص۵۸۱ ، ط. س. ج۱ ص۲۲۲. ظ

(۲). رد المحتار، باب شروط الصلوة، مطلب ستر العورة ج۱ ص۳۷۵ ، ط. س. ج۱ ص ۴۰۴. ظفير

([1]) دی. اوددویم روایت موافق دزنگون څلورمه حصه په لمانځه کی په ښکاره کیدلو سره هم لمونځ ماتیږی نو دټول زنګون ښکاره کیدل بدرجه اولی مُفسد دی. دمُنیه په شرح کی یی دخلاصی څخه نقل کړی دی چی مختار مخکنی روایت دی یعنی عدمِ فساد دصلٰوة، ([2]) خوظاهره خبره ده چی احتیاط په دی کی دی چی زنګون عورت دی په دی وجه دزنګون ښکاره کول په هیڅ حالت کی درست نه دي. دزنګون کم اختلاف چی دی هغه دلمونځ په فساد او عدمِ فساد کی دی. فقط

(که چیری په لمانځه کی ستر خلاص سی نو فوراً دی پټ کړی، چی تاخیر پکښی نه وی، نو په دی سره لمونځ نه فاسدیږی. ولو انکشف عضو وهو عورة فی الصلوٰة فَستَر من غیر لبس لا یضر هذا لان الانکشاف الکثیر فی الزمان القلیل عفو کالانکشاف القلیل فی الزمان الکثیر (غنیة المستملی ص۲۱۳. ظفیر)

په لمانځه کی په قهقهې سره اودس او لمونځ دواړه فاسدیږی اوکه صرف یو؟ سوال: (۱۳۰۸) په لمونځ کی قهقهه کول (یعنی په زوره خندل) اودس او لمونځ دواړه فاسدوی اوکه صرف لمونځ فاسدوی؟

جواب: په لمانځه کی په قهقهه کولو سره اودس اولمونځ دواړه فاسدیږی. کما فی الدر المختار وقهقهة بالغ یقظان یصلی بطهارة صغریٰ مستقلة صلٰوةً کاملةً ولو عند السلام عمداً انتهٰی ملخصاً ([3]). فقط

چی په سجده کی پښې لوړی سی نولمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۰۹) داردو په بعضی کتابونوکی لیکلی دی چی که چیری په سجده کی دواړی پښی لوړی سی، نو لمونځ نه کیږی کم از کم دپښی یوه ګوته دی په مزکه باندی لګیدلی وی. (داخبره څنګه ده)؟

جواب: دقدمونو دپورته کولو دا مسئله په درمختار اوشامی کی هم سته ددی مطلب دا دی چی که چیری بالکل په ټوله سجده کی دواړه قدمونه پورته وه نو سجده نه کیږی، او کله چی سجده ونسوه، نولمونځ ونسو. کم از کم یوه ګوته دی څه وخت پرمزکه لګیدلی وی داسي نه ده چی که چیری قدمونه دمزکی څخه پورته سول اوبیا یی کښیښول نو هم

([1]). ویمنع الخ کشف ربع عضو قدر اداء رکن بلا صنعه من عورة غلیظه اوخفیفة علی المعتمد (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب شروط الصلوة مطلب ستر العورة ج۱ ص۳۷۹ ، ط. س. ج۱ ص۴۰۸). ظفیر

([2]). وکذا اختلفوا ایضًا فی الرکبة مع الفخور هل کل منها عضو علی حدة او هما عضو واحد فقال بعضهم کلها عضو علی حدة وعلی هٰذا لو انکشف القدر المانع کالربع من الرکبة وحدها لا تجوز الصلاة الخ وقال بعضهم الرکبة مع الفخذ کلاهما عضو واحد وفي الخلاصة هو المختار وفی شرح الهدایه لابن الهمام والاصح ان الرکبة تبع للفخذ لانها ملتقی العظمین لا عضو مستقل. انتهیٰ (غنیة المستملی ص۲۱۰ وص ۲۱۱). ظفیر

([3]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطهارة نواقض الوضوء ج ۱ ص ۱۳۴. ظفیر

په لمونځ نه کیږی مطلب دادی چی که چیری بالکل پورته وه نو لمونځ به نه کیږی. [١] فقط

دغلا کمی کپړی چی یی په قیمت سره اخستی وی په هغو کی لمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال: (١٣١٠) چی دغلا کپړه په قیمت باندی واخلي او لمونځ پکښي وکړي دا څنګه دي؟

جواب: لمونځ صحیح دی، خو سره دمعلوموالی ورلره دغلا جامه اخستل نه دی پکار [٢] او دغلا دجامې سره لمونځ کول نه دی پکار، اوکه ویی کړی نو لمونځ وسو. فقط

په لمانځه کی په خبروکولو سره لمونځ ماتیږی اوکه نه؟ سوال: (١٣١١) دتکبیرتحریمه څخه وروسته چی امام دیو مقتدی په جواب کی دا ووایي چی ګړی (ساعت) دسهار څخه نه ږغیږی اوس به هم نه ږغیږی، په دې سره خو په لمانځه کی څه نقصان نه راځی اوکه بیا په تکبیرِ تحریمه ویلو سره لمونځ شروع کړی؟

جواب: په دې خبری سره لمونځ فاسدیږی [٣] بیا لمونځ شروع کول پکاردی، او تکبیرِ تحریمه بیا ویل پکار دی. فقط

که مقتدی دامام څخه مخکی رکوع وکړی ، او په سجده کی شریک سی نو څه حکم دی؟

سوال: (١٣١٢) یو مقتدی ړوند دی کله چی امام په قیام کی وو هغه رکوع کوله، اوکله چی امام درکوع څخه فارغ سو او سجدی ته په تللو سو ، نو مقتدی دقومه کولو څخه وروسته په سجده کی شریك سو نو ددی مقتدی لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په شامی باب ما یفسد فی الصلوٰة کی دی: ولو رکع وسجد بعده صح وکذا لو قبله وادرکه الامام فیها لکنه یکره الخ [٤] ددی جزئیې څخه معلومه سوه چی په صورتِ مسئوله کی به دهغه لمونځ فاسد نه سی اوعمداً داسی کول مکروه دی لیکن ړوند معذور دی لهٰذا دمعصیت څخه دُور (یعنی لیری) دی. فقط

دضالین په دوالین ویلو سره لمونځ کیږی او که نه؟ سوال: (١٣١٣) دضالین په دوالین ویلو

---

(١). ومنها السجود بجبهته وقدميه ووضع اصبع واحدة منها شرط (درمختار) وافاد انه لو لم يضع شيئا من القدمين لم يصح السجود (ردالمحتار باب صفة الصلوة بحث الركوع والسجود) ويكفيه وضع اصبع واحدة فلولم يضع الاصابع اصلا ووضع ظهر القدم فانه لا يجوز (البحر الرائق باب صفة الصلوة ج١ ص٣٣٢). ظفير

(٢). وما نقل عن بعض الحنفية من ان الحرام لا يتعدى ذمتين سالت عنه الشهاب بن الشلبى فقال هو محمول على ما اذا لم يعلم بذلك او لو رأى المكاس مثلا ياخذ من احد شيئا من المكس ثم يعطيه اخر ثم ياخذه من ذلك الاخر فهو حرام (ردالمحتار باب البيع الفاسد مطلب الحرمة تتعدد ج٤ ص ١٨٠ ، ط. س. ج٥ ص٩٨). ظفير

(٣). يفسدها التكلم هو النطق بحرفين اوحرف ولو مفهم (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلاة ج١ ص٥٧٤، ط. س. ج١ ص٦١٣). ظفير

(٤). ردالمحتار باب مايفسد الصلاة وما يكره فيها ج١ ص٥٨٩، ط. س. ج١ ص٦٣٠. ظفير

سره لمونځ کیږی او که نه؟

جواب: دعربو قرّآء اوعلماء هم ضالین په داسی صورت کی اداء کوی، چی ددال مفخّم آواز راوزی ددی وجه څخه دا ویل مشکل دی چي دهغوی ټولو لمونځونه نه دي صحیح، حالانکه هغوی دحروفو په آوازونو او مخرجونو باندی پوهیدونکی دی. فقط

دغیر مقلد په تکبیر ویلو سره لمونځ فاسد نه سو: **سوال**: (۱۳۱۴) که چیری دحنفیانو په جَمعه کی غیرِ مقلّد تکبیر ووایي نو په لمونځ کی به فساد واقع سی او که نه؟

جواب: هیڅ فساد نه واقع کیږی.

په هر آیت باندي وقف جائز دي او که نه؟ او په دي سره خو به لمونځ نه فاسديږي؟ **سوال**: (۱۳۱۵) په هرآیت باندی وقف کول برابره خبره ده که دماقبل او مابعد سره ددغه آیت تعلق وی او که نه وی، جائز دی او که نه؟ اودرب العالمین او الرّحمٰن الرّحیم په مابینځ کي په وصل کولو سره لمونځ فاسدیږی او که نه؟

جواب: په جواز کی هیڅ شبه نسته، اوپر ربّ العٰلمین او اَلرَّحمٰن الرَّحیم باندی وقف کول صحیح دی، لمونځ نه ورسره فاسدیږی. فقط

که په لمانځه کی تیری هیری خبری رایادي سی نو لمونځ به وسی او که نه؟ **سوال**: (۱۳۱۲) کم خلق چي په ظاهره په لمانځه کی مصروف وی او پریشانه خیالات یی بازارونو او عدالتونو ته بوزی، او ټولی هیری خبری په لمونځ کی ورته رایادیږی، نو دا لمونځ باطل دی او که نه؟

جواب: لمونځ یی فاسد او باطل نه دی. ([1]) فقط

(عن عثمان بن ابی العاص قال قلت یارسول الله ان الشیطان قد حال بینی وبین صلٰوتی وبین قرآءتی یلبسها علی فقال رسول الله ذالك شیطان یقال له خنزب فاذا حسسته فتعّوذ بالله منه واتفل علٰی یسارك ثلٰثا ففعلتُ ذالك فاذهبه الله عنّی. رواه مسلم (مشکوٰۃ باب الوسوسه ص ۱۹). ظفیر

چي سهار پر پرتوګ باندي ټپله ووینی نو آیا هغه به دماخستن لمونځ راګرځوی؟ **سوال**: (۱۳۱۷) په بهشتی زیور کی یی لیکلی دی چی کم سړی دماسخوتن دلمونځ داداء کولو څخه وروسته بیده سی، او دلمر راختلو څخه وروسته چي بیدار سی نو پر پرتوګ باندی دمَنی ټپله ووینی هغه ته دماسخوتن لمونځ راګرځول پکاردی. داصحیح ده او که نه؟

جواب: کم سړی چی دماخستن ترلمونځ وروسته بیده سو اوسهار چی کم وخت راپاڅیدی

([1]) عن ابی هریرة ﷺ قال قال رسول ﷺ ان الله تجاوز عن أمتی ما وسوست به صدرها ما لم تعمل به او تتکلم متفق علیه. (مشکوٰۃ باب الوسوسه ص ۱۸). ظفیر

نو هغه پر جامه باندې دمنې تپله ولیده نو دماخستن دلمونځ دراګرځولو حکم دهغه دپاره نسته. اوپه ذکر سوې کتاب کې به هیڅکله داسې نه وي. په پوهیدلو کې غلطي سوې ده، دوباره دې هغه په غور سره وکتل سي. فقط

چې امام دلمانځه په حالت کې دمقتدي په وینا سره مخ ته وړاندې سي ، نو لمونځ به وسي او که نه؟ سوال: (۱۳۱۸) زید دسهار جَمعه ورکوله او صرف یل یو سړی یې مقتدي ؤ، کم چې دشرعي قواعدو مطابق دزید سره بالکل نژدې رسته طرف ته ولاړ ؤ ددویم رکعت دقراءت ختمیدلو څخه مخکې یوبل مقتدي راغی، اوپه جَمعه کې یې شاملیدل وغوښتل چونکه ومخکې مقتدي ته دوروسته راتلو موقعه نه وه، ددې دپاره دویم مقتدي زید ته په الفاظو کې وویل،چې تاسو یو قدم وړاندې سی په دې شان زید یوقدم وړاندې سو او قرائت یې هم هغه شان جاري وساتی او لمونځ یې ختم کړی زید وایي چې دټولو لمونځ فاسد سو ولې چې مقتدي ته پرځای دوینا په لاس سره اشاره کول پکار وو، ددې وجه څخه دلمونځ داعادې ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې دبعضو فقهاؤ قول دلمونځ دفاسد کیدلو دی خو صحیح داده چې لمونځ وسو، واقعي دې مقتدي ته پکار وه چې په اشارې سره یې امام ته دمخکې تللو دپاره ویلي وای، لیکن بهر حال لمونځ وسو، داعادې ضرورت نسته. (1) فقط

که دلمانځه په دوران کې لاسونه په جامو کې دننه وي ، نو لمونځ کیږي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۱۹) که چیرې دلمانځه په وخت کې لاسونه په جامو کې دننه وي، نو لمونځ کیږي او که نه؟

جواب: لمونځ درست دی. (2)

فتحه ورکول اواخیستل اویا دیوه لمانځه پاته کیدل څنګه دي؟ سوال: (۱۳۲۰) زید دجُومات امام دی، هغه دماسخوتن په لمونځ کې آیت: وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا، الآیة ، ووایه، اوپر:

---

(1) ثم نقل تصحیح عدم الفساد فی مسئله من جذب من الصف فتاخر (در المختار) وعبارة المصنف فی المنح بعد ان ذکر لو جذبه آخر فتاخر الاصح لاتفسد صلاته وفی القنیه قیل لمصل منفرد تقدم فتقدم بامره اودخل رجل فرجة الصف فتقدم المصلی حتی وسع المکان علیه فسدت صلاته وینبغی ان یمکث ساعة ثم یتقدم برأی نفسه وعلله فی شرح القدوری بانه امتثال لغیر امرالله تعالی اقول ماتقدم من تصحیح صلاة من تاخربمایفید تصحیح عدم الفساد فی مسئله القنیة لانه مع تاخره نجد به لا تفسد صلاته (رد المحتار باب الامامة ج۱ ص **۵۳۳** ، ط. س. ج۱ ص**۵۷۱**). ظفیر

(2) رفع یدیه الخ ماسًّا بابهامیه شحمتی اذنیه هو المراد بالمحاذاة (در المختار) ووفق بینهما وبین روایات الرفع ای المنکبین بان الثانی اذا کانت الیدان فی الثیاب للبرد کما قاله الطحاوی الخ (رد المحتار فصل تالیف الصلوة ج۱ ص۰**۴۵** ، ط. س. ج۱ ص ۴۸۲). ظفیر

وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا، باندی ودریدی، بیا یې ددغه ځای څخه دیوبل سورت آیت د: وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا، سره یو ځای کړی او مخ ته یی ویل شروع کړل. نو عمر چې دقرآن حافظ دی اودمَا تَجُوْزُ وَمَا تُفسِدُ بِه الصَّلٰوۃ څخه خبر وو، هغه فتحه ورلره ورکړه داسی یې ورته وویل: وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا. زید بیا دشروع څخه دور راوګرځوی او پرهمدې ځای باندی دوباره ودریدی، بیا عمر فتح ورکړه، زید بیا په دریم وار آیت راوګرځوي او په مشکله سره پر مخ باندی ولاړی او: وَيُنْذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا، یې پرېښوولی اوسورةِ زُمُر یې ختم کی او دسجده سهوی څخه بغیر یې لمونځ تمام کړی. او داکار تقریبًا دسلو ۱۰۰ لمونځ ګزارو په مینځ کی دزید څخه صادر سوی دی. نو لمونځ راګرځول پکاردی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی لمونځ دامام او مقتدیانو صحیح دی اوسجده سهوه واجب نه ده، او اعاده ددی لمونځ لازمه نه ده. کما صرح به فی الدر المختار والشامی بخلاف فتحه علی امامه فانه لایفسد مطلقًا لفاتح وآخذ بکل حال (درالمختار) قوله بکل حال ای سواء قرء الامام قدر ما تجوز به الصلوة ام لا انتقل الی آیة اخری ام لا تکرار الفتح ام لا هو الاصح نهر، شامی [1] جلدِ اول ص ۴۱۸.

نو معلومه سوه چی اَصَح داده، چی دفتح په تکرار سره هم په لمونځ کی فساد نه راځی او دسجده سهوی دواجبوالی هم هیڅ وجه نسته ولی چی دقرائت په تکرار سره کم تاخیر په یوه رکن کی وسی، هغه موجب دسجده سهوی نه دی، کما فی الدرالمختار واعلم انه اذا شغله ذلك الشك فتفکر قدر اداء رکن لم یشتغل حالة الشك بقراءة الخ وجب علیه سجود السهو [2] الخ ددی څخه واضحه سوه چی داشتغال بالقراءة په صورت کی سجده سهوه نه لازمیږی البته داهم په شامی وغیره کی تصریح ده چی لکه څنګه چې مقتدی ته دا مکروهه دی چی فورًا فتحه ورکړی، همدغه شان امام ته هم دا مکروه دی چی مقتدی دفتحی ورکولو طرفته لا چاره کړی. بلکه هغه ته پکاردی، چی بل مناسب آیت ته یا دبل سورت طرف ته منتقل سی. یا که چیری واجب یا مستحب مقدار یی لوستی وی نورکوع دی وکړی. کما قال فی الشامی یکره ان یفتح من ساعته کما یکره للامام ان یلجئها الیه بل ینتقل الی آیة اخری لا یلزم من وصلها ما یفسد الصلٰوة او الٰی سورة اُخری اویرکع اذا قرء قدر الفرض کما جزم به الزیلعی وغیره وفی روایة قدر المستحب کما رجحه الکمال بانه الظاهر من الدلیل [3] الخ. فقط

---

(۱) رد المحتار باب مایفسد الصلوة ج۱ص ۵۸۲ ، ط. س. ج۱ ص۲۲۲. ظفیر
(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۷۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۹۳. ظفیر　=

چې چيرې مقتدي په پورکعت کی اقتداء پرېږدی، نولمونځ به وسی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۲۱) دجُومات دامام څخه دمابښام په لمونځ کی ددوو رکعتو څخه وروسته التحيات هيره سوه مقتديانو په غلطی سره يا په هيره سره التحيّات وويله او امام په دريم رکعت کی اَلْحَمْدُ کرار کرار ويله اورکوع يې وکړه او مقتديان دامام په اَللهُ اَکبَرَ ويلو باندی ودريدل امام درکوع دتسبيحاتو دپوره کولو څخه وروسته سجدی ته ولاړی او ټول مقتديان يی تابع سوه، په دې صورت کې دامام لمونځ پوره سو مګر مقتديانو په غلطي سره په دريم رکعت کی دامام اقتداء ونکړه بلکه بعضی په رکوع کی هم شامل نه سول. دمقتديانو دلمونځ څه حکم دی؟ فقط

جواب: کمو مقتديانو چی رکوع ونه کړه ، دهغوی لمونځ ونسو اوکمو مقتديانو چی په ولاړه رکوع وکړه، برابره خبره ده که په ولاړه کي دامام سره په رکوع کی شامل سوه، ياپې وروسته رکوع وکړه، دهغوی لمونځ وسو (¹) دامام پرذمه داولنی قعدې پرېښولو په وجه سجده سهوه لازمه ده. (²) فقط

دلمونځ په حالت کی په چيغو او سورو وهلو سره لمونځ فاسديږی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۲۲) دآميانو يوې ډلی ديو پير څخه تعليم اخيستی دی هغوی په جهری لمونځ کی په قرآئت اوريدلو سره او کله په سِرّی لمونځ کی هم هُو هُو جوړ کړی اوچيغی ووهی. په دی سره دهغوی لمونځ فاسديږی اوکه نه؟ او دا آه او اُف نه دی بلکه خالصه چيغه ده.

جواب: په در المختار کی دی: والانين هو قوله اه بالقصر والتاوه هو قوله آه بالمد والتافيف اُف او تف والبکاء بصوت يحصل به حروف لوجع او مصيبة الخ لا کذکر جنة او نار فلو اعجبته قراءة الامام فجعل يبکی ويقوله بلی او نعم او اری لا تفسد، سراجيه لدلالته علی الخشوع الخ اوپه شامی کی دی: قوله: لدلالته علی الخشوع افاد انه لوکان استلذاذاً بحسن النغمة يکون مفسداً (³) الخ ، نو معلومه سوه چي په

(³) رد المحتار باب ما يفسد الصلوة ج۱ ص۵۸۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۳. ظفير

(¹) نعم تکون المتابعة فرضا بمعنی ان ياتی بالفرض مع امامه او بعده کما لو رکع امامه فرکع معه مقارنا او معاقبا وشارکه فيه او بعد ما رفع منه فلو لم يرکع اصلا الخ بطلت صلاته (رد المحتار باب صفة الصلاة مطلب تحقيق متابعة الامام ج۱ ص ۴۳۹ ، ط. س. ج۱ ص ۴۷۱). ظفير

(²) ولها واجبات لا تفسد بترکها وتعاد وجوباً الخ ان لم يسجد له ای للسهو الخ وهی قراءة فاتحه الکتاب الخ والقعود الاول (الدرالمختار علی هامش رد المحتار ج ۱ص۴۲۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۵۷) سها عن القعود الاول من الفرض الخ ثم تذکره عاد اليه الخ ما لم يستقم الخ والا ای وان استقام قائما لا يعود لاشتغاله بفرض القيام وسجد للسهو لترک الواجب (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۲۹۲، ط. س. ج۲ ص ۸۳). ظ

(³) رد المحتار باب مايفسد الصلوة ومايکره فيها ج۱ص۵۷۹ ، ط. س. ج۱ ص ۲۱۹ – ۲۲۰ . ظفير

لمانځه کي دغه ډول هُو هُو او نارې وهل که چيري دجنت او دوږخ دذکر له امله نه وي نولمونځ فاسدوي، ځکه نو دجاهلانو ددې کار څخه په سختۍ سره بندول پکار دي، ځکه هغوی خپل لمونځ هم فاسدوي اودنورو لمونځ ګذارو په لمونځ کي هم خلل اچوي، كَمَا جَرَّبْنَاهُ. فقط

که دلمونځ کوونکي مخ ته سپی تیر سو نو لمونځ فاسدیږي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۳۲۳) که چيری دلمونځ ګزار مخ ته سپی تير سی نو لمونځ فاسد يږي او که نه؟

جواب: لمونځ نه فاسد يږي، ددوباره راګرځولو ضرورت يې نسته. (۱) فقط

په جيب کی په ناپاکه شيانو ايښولو سره لمونځ کيږي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۳۱۴) که په جيب کی څه ناپاکه شيان يا ناپاکه کپړه قصداً يا سهواً پاته سی اولمونځ وکړل سی نو لمونځ کيږي او که نه؟

جواب: په دی صورت کی به لمونځ صحيح نه وی دغه لمونځ بيا کول پکار دی. (۲) فقط

چي په لمونځ کی پرتوګ يا لنګ خلاص سی ، نوڅه وکړی؟ **سوال**: (۱۳۲۵) که دلمانځه په حالت کی دمقتدی يا دامام لنګ يا دپرتوګ پرتوګاښ خلاص سی نو هغه په لمونځ کی څه وکړی؟

جواب: که چيری په يوه لاس سره يعنی په عملِ َسير سره يې سمول ممکن نه وی نو لمونځ دی مات کړی اوپه دواړو لاسونو سره دی لنګ وتړی، بيا دی په جَمعه کی شريك سی. (۳) فقط

چي دسُترې پرځای چتری وغيره وی نو کافي ده اوکه نه؟ **سوال**: (۱۳۲۲) که دلمونځ ګزار په وړاندی څادر يا چتری (سايبان) دسُترې پرځای وی نو کافی ده اوکه نه؟ آيا سُتره دلرګی څخه کيدل ضروری دی؟ او دلرګی سُتره کم ازکم يوه ګوته ډبله کيدل ضروری دی او که ددی څخه کمه هم کافی کيدی سی؟

جواب: که څادر يا چتری دلمونځ ګزار په وړاندی وی، نو پرځای دسُتری کافی ده. دلرګی

---

(۱) ولا يفسدها الخ مروره بين يديه اى حائط القبلة فى بيت ومسجد صغير مطلقًا الخ ولو امراة او كلبًا (الدر المختار على هامش رد المحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج۱ ص۵۹۳ ، ط. س. ج۱ ص ۲۳۴). ظفير

(۲) وعفى الشارع عن قدر درهم وان كره تحريما الخ وفوقه مبطل (درالمختار) ففى المحيط يكره ان يصلى ومعه قدر درهم او دونه من النجاسة عالما به الخ (رد المحتار باب الانجاس ج۱ ص ۲۹۲ ، ط. س. ج۱ ص۳۱۲). ظف

(۳) ويفسدها كل عمل كثير ليس من اعمالها ولا لاصلاحها وفيه اقوال خمسة اصحها مالايشك بسببه الناظر من بعيد فى فاعله انه ليس فيها(در المختار) القول الثانى ان ما يعمل عادة باليدين كثير وان عمل بواحدة كالتعمّم وشدّ السَّراويل وما عمل بواحدة قليل وان عمل بهما كحلّ السَّراويل ولبس القلنسوة ونزعها (رد المحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج۱ ص۵۸۳ – ۵۸۴ ، ط. س. ج۱ ص ۲۲۴ – ۲۲۵). ظفير

خاصوالی نسته. او دغِلظِ اصابع (یعنی دګوتی هومره پنډوالی) قید ته صاحب دبدائع قولِ ضعیف ویلی دی. فی الشامی لکن جعل فی البدائع بیان الغلظ قولاً ضعیفاً وانه لا اعتبار بالعرض وظاهره انه المذهب ([1]) بحر الخ . فقط

پر: صراط الذین ، باندي دساه دختمیدلو دوجي څخه نه کفر لازمیږي او نه لمونځ فاسدیږي:

سوال: (١٣٢٧) داسي سړی چي دعلمِ قرآئت څخه بې خبره دی، په جهری لمونځ کی امام سو او داضطرار په حالت کی یی پر: صِرَاطَ الَّذِیْنَ باندی ساه ختمه سوه، آیا دغه امام کافر سو ؟ او لمونځ فاسد سو که نه ؟

جواب: په دی صورت کی لمونځ فاسد نه سو اوامام مذکور کافر نه دی. بلکه هغه ته په کافر ویونکی باندی دکفر بیره ده کما فی الحدیث: ایما رجل قال لاخیه کافر فقد باء بها احدهما. رواه الشیخان ([2])

وفی حدیث آخر: سباب المسلم فسوق وقتاله کفر ([3]) وفی حدیث آخر ایضًا من دعا رجلاً بالکفر او قال عدو الله ولیس کذلك الاّ حارَ علیه ([4]) (متفق علیه).

دغیر لمونځ ګزار په پَیک وهلو سره دلمونځ ګزار لمونځ نه فاسدیږي: **سوال**: (١٣٢٨) که چیری غیر لمونځ ګزار لمونځ کونکی ته پَیك وهی نو دلمونځ کونکی په لمونځ کی به څه فساد لازم سی اوکه نه؟

جواب: دلمونځ کونکی په لمونځ کی په دی سره هیڅ خلل اوفساد نه لاز میږی اګر چی دا ښه نه دی چی لمونځ ګزار دلمونځ په حالت کی په چا باندی پَیك وهی، ددی وجه هغه ته پکاردی چی پَیك وهونکی منع کړی. فقط

په: ماهِیَهْ ، کی تاء ظاهرول غلط دي خو لمونځ نه په فاسدیږي: **سوال**: (١٣٢٩) که چیری پر ځای دهاء (لکه په هَوَّزْ کي چي ده) مَاهِیَهْ په تاء سره، سره دتنوینه (یعني مَاهِیَةٌ) وویل سي، نو لمونځ فاسدیږی اوکه نه؟

جواب: په: وَمَآ اَدْرَاكَ مَاهِیَهْ کی آخر یی هاء ده کمه چی هاء سکته ده، دا تاء نه ده لیکن چا چی په غلطی سره داسی ولوستل دهغه لمونځ وسو. ([5]) فقط.

([1]) ویغرز ندبا الامام وکذا المنفرد فی الصحراء ونحوها سترة بقدر ذراع طولا وغلظ اصبع لتبدو للناظر بقربه دون ثلاثة اذرع علی حذاء احد حاجبیه الخ (درالمختار) لکن جعل فی البدائع بیان اللفظ الخ (رد المحتار ج١ ص ٥٩٥ – ٥٩٦ ، باب ما یفسد الصلوة ط. س. ج١ ص ٦٣٢ – ٦٣٧). ظفیر

([2]) و([3]) و([4]). مشکوٰة ، باب حفظ اللسان والغیبة والشتم ، ص ٤١١ . ظفیر

([5]) ومنها القرآءة بالالحان ان غیر المعنی والا لا. (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب مایفسد الصلوة ج١ ص٥٨٩ ، ط. س. ج١ ص ٦٣٠). ظفیر

دشپې يې دقبلې پوښتنه وکړه او لمونځ يې وکې، وروسته معلومه سوه چې قبله غلطه وه نو دا لمونځ وسو او که نه؟ **سوال**: (١٣٣٠) زيد دشپې دخپل ملګری څخه دقبلی پوښتنه وکړه اولمونځ يې وکی څو ورځی وروسته معلومه سوه چی قبله غلطه وه نودغه لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: لمونځ وسو. فقط

که مسبوق په غلطی سره دامام سره سلام وګرځوی او دوریادولو څخه وروسته ودريدی نو څه حکم دی ؟ **سوال**: (١٣٣١) يوه ورځ دماخستن په لمونځ کی زه په دوهم ۲ رکعت کی شريك سوم، خو دامام سره می دواړو طرفوته سلام وګرځوی اولمونځ می ختم کی او دُعاء می وغوښته خو همدغه وخت يوبل مقتدی چاچی دامام سره خپل لمونځ پوره کړی ۇ ماته يادګيرنه وکړه چی ته ولاړ سه اولمونځ پوره کړه. نوکه په دې حالت کی زه ګنهګار دريدلی وای اولمونځ می پوره کړی وای نو لمونځ به می سوی وای او که نه؟ او په کم صورت کی چی ما دهغه خبره ونه منله بلکه دنوی سره می څلور رکعته فرض وکړل نو دا لمونځ اداء سو اوکه نه؟ زما دنه منلو وجه دا وه چی په زړه کی می خيال اوشُبه پيدا سوه چی دلمونځ څخه دخارج سړی په فتح ورکولو سره لمونځ فاسديږی.

جواب: که چيری ددغه سړی دوينا څخه وروسته دی څه سوچ کړی وای، او پخپله درته ياد سوی وای چی زما څخه يو رکعت بيشکه پاته سوی دی، او پر دې بناء باندی ولاړ سوی وای، يو رکعت دی پوره کړی وای اوسجده سهوه دی کړی وای، نو لمونځ به سوی وای. ځکه چی دا امتثال (يعنی خبره منل) دغير سړی نه دی بلکه کله چی پخپله درته په ياد سوه نو همدی طرفته دريدل منسوب کيږی. په درمختار کی دی: حتّی لو امتثل امر غيره فقيل له تقدم فتقدم او دخل فرجة الصف احد فوسع له فسدت بل يمكث ساعةً ثم يتقدم برأيه ([1]) اوپه شامي کي يې دنه فاسديدلو تصحيح کړيده، وقدَّمنا عن الشرنبلالي عدم الفساد وتقدم تمام الكلام عليه ([2]) الخ شامی جلد اول. فقط

چی دعَلَيْكُمْ پر ځای عَلَيْتُمْ ووايی نو لمونځ کيږی اوکه نه؟ **سوال**: (١٣٣٢) که چيری په اَلسَّلاَمُ عَلَيْكُمْ کی دعَلَيْكُمْ پرځای عَلَيْتُمْ ووايی، نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

جواب: لمونځ وسو. ([3]) فقط

([1]) ويتحرّی وهو بذل المجهود لِنَيل المقصود للعاجز عن معرفة القبلة فان ظهر خطاه لم يعد لمامرّ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب شروط الصلوة واستقبال القبلة ج١ ص٤٠١ ، ط. س. ج ١ ص ٤٣٣). ظفير

([2]) الدر المختار علی هامش رد المحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها تحت الفروع ج١ ص٥٨١ ، ط. س. ج ١ ص ٢٢٢. ظفير

=

په چوغه او عمامه کی لمونځ کیږي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۳۳) امام که لباس شرعی مثلاً چوغه وازار ورداء وعمامه راپوشیده امامت می سازد ولیکن پوشیدن این لباس او را ناخوش است آیا نماز جائز می شود یا نه ؟

جواب: نماز اداء می شود. (١)

چی په جامه کی دناپاکی تپْله ووینی نو څه وکړي ؟ سوال: (۱۳۳۴) امام ته احتلام وسو جامی یې ومینځلی او لمونځ به یې ورکوی. دوې ۲ درې ۳ ورځی وروسته یې پر قمیص باندی دمنی تپله ولیده نو اوس دلمونځونو اعاده کول پکاردی اوکه نه؟ لیکن دامعلومه نه ده چی چا چا په ده پسی لمونځونه کړی دی؟

جواب: دفقهی په کتابونو کی یې په دی صورت کی دا لیکلی دی چی که چیری یو سړی پرخپله جامه باندی منی ولیده او ددرهم داندازې څخه زیاته وه، نو دآخری خوب څخه وروسته چي ده کم لمونځونه په همدغه جامه کي کړيدي هغه به راګرځوي ، دمثال په توګه نن دماپښین تر لمانځه وروسته ده پر کالو باندي مني وليدل، نوکه چيری غرمه بیده سوی وی نو دهمدغه وخت څخه به جامه ناپاکه ګڼل کیږی. اوکه چیری غرمه بیده سوی نه وی بلکه دشپی بیده سوی وو نو دهغه وخت څخه به ناپاکه ګڼل کیږی او دهغه څخه وروسته یې چی څومره لمونځونه کړی دی هغه به راګرځول کیږی اوپه قدر دامکان مقتدیانو ته هم اطلاع ورکول پکاردی. چی څوك څوك ورپه یادیږی هغوی ته دی خبر ورکړی. کما فی الدرالمختار: کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او رکن (٢) الخ. فقط

په سرّي ذکر سره لمونځ فاسدیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۳۵) دنقشبنديې طريقې عزتمند مريدان دمرشدانو دلار ښووني سره سم په فرضي او نفلي لمونځونو کي پټ اذکار وايي، چي د: أوه او هُو الفاظ نه ورڅخه اوريدل کيږي، په دې سره لمونځ فاسديږي اوکه نه؟

---

(٣) ومنها الخروج بصنعه کفعله المنافی لها بعد تمامها (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص ٤١٨ ، ط. س. ج ١ ص ۴۴۸ – ۴۴۹). ظفير

(١). **پښتو ژباړه یې:**

سوال: هغه امام چي شرعي لباس لکه چینه، پرتوګ، څادر او بګړی یې اغوستي وي او امامت کوي لیکن ددې لباس اغوستل ورته ناخوښ وي، آیا لمونځ یې صحیح کیږي اوکه نه؟

جواب: لمونځ یې صحیح کیږي.

(٢) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الامامة مطلب المواضع التی تفسد صلاة الامام ، ج١ ص **۵۵۳** ، ط. س. ج ١ ص ۵۹۱ – ۵۹۲). ظفير

جواب: ظاهره داده چي لمونځ فاسديږي، ځکه نوپه دې کارکي احتياط واجب دی. (١)

دقبلې څخه په مُنحرف جُومات کی کړی لمونځونه صحيح سوه اوکه نه؟ سوال: (١٣٣٢) په يوجُومات کی به خلګو لمونځو کول. ځوورځی وروسته معلومه سوه چی جَومات دقبلی داړخ څخه منحرف دی. دتحقيق څخه وروسته څه خلق دمخکی په شان مخ کوی اولمونځ کوی اوبعضی خلګ ددغه اړخ څخه لږ وروګرځي اولمونځ کوی. اوس کم خلق چی مخکنی طرف ته لمونځ کوی هغوی ته دلمونځ اعاده کول پکا رده اوکه نه؟ او دتحقيق څخه مخکی چی کم لمونځونه سوی دی، دهغو اعاده کول پکاردی اوکه نه؟

جواب: پرمخکنی طرف باندی چی کم لمونځ کوی دهغوی لمونځ صحيح دی اودمخکنيو لمونځونو اعاده کول لازم نه دی، ولی چی په لږ څه کوږوالي باندې دقبلې په استقبال کي څه فرق نه راځي، او دقطب حساب هم تحقيقي نه بلکه تقريبی (٢) دی. فقط

چی دسهار په لمونځ کی لمر راوخيژی نولمونځ فاسديږی اوکه نه؟ سوال: (١٣٣٧) که چيری دسهار په لمونځ کی لمر راوخيژی، نو لمونځ به صحيح وی اوکه نه؟

جواب: داحنافو په نزد دهغه لمونځ فاسد سو. دلمر را ختلو اوپورته کيدلو څخه وروسته بيا هغه ته لمونځ کول پکار دی کما فی الدر المختار والشامی بخلاف الفجر فتبطل بطرو الطلوع الذی هو وقت فساد (٣) الخ شامی، والاحاديث تعارضت فتساقطت الخ. در المختار. (٤) فقط

دضاد پرځای په ظاء ويلو سره لمونځ فاسديږی اوکه نه؟ سوال: (١٣٣٨) په لمانځه کی دض پر ځای په ظآء ويلو سره لمونځ فاسديږی اوکه نه؟

جواب: اول ددی مسئلې په باره کی داضروری ده چی قصداً دظاء ويلو څخه احتراز وکی ولی چی په دی کی دلمونځ فاسد کيدلو روايات ضرور موجود دی بلکه په شرح فقه اکبرکی يې دمحيط څخه نقل کړی دی چی تعَمُّد ددی کفر دی. عبارت يې دادی: وفی المحيط سئل الامام الفضلی عمن يقرء الظاء المعجمة مكان الضاد المعجمة اويقرء اصحاب الجنة مكان

---

(١) وذكر فی الملتقط ان المصلی اذا لسعته الحية فقال بسم الله الرحمٰن الرحيم تفسد صلوته الخ وذكر فی الذخيرة انه اذا قال المريض يارب اوقال بسم الله لما يلحقه من المشقة الخ اما عندهما ای الطرفين فتفسد الخ (غنية المستملی). ظفير

(٢) فللمكی الخ اصابة عينها الخ ولغيره ای لغير معاينها اصابة جهتها بان يبقى شی من سطح الوجه مسامتا للكعبة (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج١ ص٣٩٧ ، ط. س. ج١ ص٤٢٧-٤٢٨). ظ

(٣) رد المحتار كتاب الصلاة تحت قوله بخلاف الفجر ج١ ص ٣٤٢ ، ط. س. ج ١ ص ٣٧٣. ظفير

(٤) الدرالمختار على هامش رد المحتار كتاب الصلاة ج١ ٣٤٢ ، ط. س. ج ١ ص ٣٧٣. ظفير

اصحاب النار اوعلى العكس فقال لايجوز امامته ولو تعمد يكفر قلت اما كون تعمده كفرًا فلا كلام فيه اذا لم يكن فيه لغتان ففي ضنين الخلاف سامى. ([1]) اودبنده مطلب دتحرير سابق څخه دا وو چى باوجود دارادى داداء كولو دضاد دمخرج خپل څخه كه چيرى مشابهت دظاء يادال سره راسى نو لمونځ صحيح دى. په در المختار كى دى: الا ما يشق تميزه كالضاد والظاء فاكثرهم لم يفسدوها ([2]). په شامى كى دى: قال فى الخانية الاصل فيها اذا ذكر حرفا مكان حرف وغير المعنى ان امكن الفصل بينهما بلا مشقة تفسد وان لا يمكن الا بمشقة كالظاء مع الضاد الخ قال اكثرهم لا تفسد وفى خزانة الاكمل قال القاضى ابو عاصم ان تعمد ذلك تفسد وان جرى علٰى لسانه ولا يعرف التميز لا تفسد وهو المختار عليه وفى البزازية وهو اعدل الاقاويل وهو المختار ([3]) الخ، ددى احتياط په وجه سره دعربو علماء اوقراء قاطبةً (ټوله) دضاد په لوستلو كى دظاء څخه قطعًا ځان ساتى او ضاد په صورت ددال مفخّم اداء كوى، كما هو مشاهد ومعروف. فقط

درشوت په جا مو كى لمونځ كيږى اوكه نه؟ سوال: (١٣٣٩) درشوت په جامو كى لمونځ جائز دى او كه نه ؟

جواب: لمونځ ادا كيږى خو دغه سړى عاصى او فاسق دى. يعنى دحرامى ګټى په جامو كى لمونځ كول مكروهه دى. ([4]) ليكن لمونځ اداء كيږى. فقط

دامام په نيت ماتولو سره دمقتدى لمونځ فاسديږى؟ سوال: (١٣٤٠) امام په قعده اولى كى سهوه سو، مقتديانو ورته په الله اكبر ويلو سره اطلاع وركړه. هغه په غلطى سره لمونځ مات كړى. كم مقتديان چى راسته او چپه طرف ته وه ياپه بل صف كى وه هغوى ته علم نه وو چى زموږ امام لمونځ فاسد كى هغوى پرهمدى مخكنى نيت باندى قائم وه او داسى يې وګڼله چى امام ددريم ٣ ركعت دپوره كولو دپاره دريدلى دى. اوس امام دبل لمونځ دركعت ركوع وكړه مقتديان ټول دامام سره ركوع ته ولاړل امام څلور ركعته پوره كړل، اوسلام يې وګرځوى، مقتديانو هم څلور ركعته پوره كړل. اوس پوښتنه داده چى كمو مقتديانو دامام سره دوباره نيت ونه تړى بلكه دامام سره په تكبير ويلو سره ركوع ته ولاړل، په دى صورت كى ددغه مقتديانو لمونځ وسو اوكه نه؟ او دامخكنى تكبير كم

([1]) شرح فقه اكبر ص ٢٠٥ . ظفير

([2]) الدر المختار على هامش رد المحتار، باب مايفسد الصلوة مطلب زلة القارى ج١ ص ٥٩٢ . ظفير

([3]) رد المحتار ، باب مايفسد الصلوة مطلب زلة القارى ج١ ص ٥٩٢ ، ط. س. ج١ ص ٦٣٣ . ظفير

([4]) وكذا تكره فى اماكن كفوق كعبة الخ وارض مغصوبة (الدرالمختار شامي كتاب الصلوة ج١ ص٣٥٤). ظفير

چې يې دامام سره ركوع ته دتللو پروخت ويلي وو هغه به تكبيرِ تحريمه سی اوكه نه؟

جواب: په دی صورت كی دمقتديانو لمونځ ونسو ولی چی كله امام خپل لمونځ مات كی نو دټولو مقتديانو لمونځ فاسد سو. بيا مقتديانو دوباره تكبيرِ تحريمه داقتداء دنيت سره نه دی ويلي اودوهم وار يې لمونځ هم نه دی شروع كړی بلكه پرمخكنی لمونځ يې بناء وكړه كم چی فاسد سوی وو، او بناء علی الفاسِد هم فاسده ده، لهٰذا دهغوی لمونځ به فاسد وی. (١)

<u>په لمونځ كی په راسته پښه ښوريدلو سره لمونځ نه فاسديږی؟</u> سوال: (١٣٤١) دزيد دراسته پښی بټه ګوته په لمانځه كی وښوريده نو په دی سره لمونځ ماتيږی اوكه نه؟

جواب: په لمانځه كي دګوتی حركت كول او ښوريدل لمونځ نه فاسدوي. (٢) فقط

<u>جُومات دچا ملكيت نه دی په هغه كی لمونځ درست دی:</u> سوال: (١٣٤٢) كمِ دمحلی خلق چی دمحلی جُومات خپل ملكيت ګڼی، په دغه جُومات كی لمونځ كول شرعاً څنګه دی؟

جواب: جُومات دچا ملكيت نه وی (٣) اودچا په ګڼلوسره په هغه كی څه تغير نه كيږی. نو لمونځ په هغه كی صحيح دی او دجُومات ثواب پكښی حاصليږی. فقط

<u>چی دنامه لاندی وريښته نه خروی دهغه لمونځ هم درست دی ؟</u> سوال: (١٣٤٣) څوك چی دنامه لاندی وريښته نه خرَوی دهغه لمونځ صحيح دی او كه نه ؟

جواب: لمونځ يې صحيح دی، ليكن داكار بد دی. او دڅلوريښتو ورځو څخه زيات دنامه لاندی وريښته باقی ساتل مكروه دی. (٤) فقط

<u>كه صحيح قرآئت يې وكی نو لمونځ وسو داوريدونكی اعتبار نسته:</u> سوال: (١٣٤٤) زيد په جهري لمونځ كی سورة والعصر ووايه په دی طريقی سره چی پر: وَالْعَصْر باندی يې وقف وكی. او سامع وَالْعَصْ واوريدی په حذف دراء سره. اودوهم وار يې پر: لَفِي خُسْر، باندی

---

(١) واذا ظهر حدث امامه وكذا كل مفسد فی رأی مقتد بطلت فيلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج١ ص ٥٥٣ ، ط. س. ج١ ص ٥٩١). ظفير

(٢) وان حرك رجلا واحدا لا علی الدوام لا تفسد صلٰوته (عالمګيری كشوری باب ما يفسد الصلوة ج١ ص ١٠٢، ط. ماجديه ج١ ص ١٠٣). ظفير

(٣) وأن المساجد لله (سورة الجن، آية : ١٨) ويزول ملكه عن المسجد والمصلي بالفعل وبقوله جعلته مسجدا عند الثاني وشرط محمد والامام الصلاة فيه بجماعة وقيل يكفي واحد وجعله في الخانية ظاهر الرواية (الدر المختار علی هامش رد المحتار كتاب الوقف مطلب في احكام المسجد ج٣ ص ٥١٠ – ٥١١ ، ط. س. ج٤ ص ٣٥٥ – ٣٥٢) . ظفير

(٤) الافضل ان يقلم اظفاره ويحفی شاربه ويحلق عانته وينظف بدنه بالاغتسال فی كل اسبوع مرة فان لم يفعل ففی كل خمسة عشر يوماولايعذر فی تركه وراء الاربعين الخ ويستحق الوعيد كذا فی القنية (عالمګيری مصری كتاب الكراهية الباب التاسع عشر ج ٥ ص ٣٢٨ ، ط. ماجديه ج٥ ص ٣٥٧). ظفير

وقف وکی اوسامع لفی خُسْر واوریدی په اسقاط دراء سره. که چیری وقف پرآخرني توري باندی په اسقاط دحرکت یاتنوین سره، نه په اسقاط دراء وکړل سي، نو پرداسی ځای باندی وقف کول جائز دی چیری چی دحضرت علی کرم الله وجهه څخه پر اوولسو ۱۷ ځایونو باندی په قرآن شریف کی وقف کول مُفضی اِلَی الکفر منقول دی، چی په هغی کی یوځای: فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ، دی علی هٰذا القیاس. اوپه شپاړسو ۱۲ ځایونو کی چی کم اوه لسم ۱۷ ځای دی هغهَ وَالْعَصْرِ دی، چی فساد ددی اظهر من الشمس دی. ددی څخه علاوه وقف په مابین دمبتداء او خبر او صفت او موصوف او فعل او فاعل او مستثنٰی منه اوصله اوموصول اونوروکي دنحوي قاعدې پربنا چي فصل او وقف یاجائز یا ناجائز دی څنګه باید وکړل سي؟ اوکم موضع چی دلته متنازع فیه دی هغه جمله اسثنائیه ده.

جواب: اعتبار دلوستونکی دی، اوریدونکی که یوحرف وانه وری نو په دی سره دقاری نه ویل نه لازمیږی. نو کله چی قاری والعصر ویلی دی اوهم دغه ډول اِنّ الانسان لَفی خُسر یې ویلی دی نو لمونځ وسو اوپردی دواړوځایونو باندی په وقف کولوسره نه لمونځ باطل سو اونه کفر وسو، اوپر هیڅ موقع باندی هم (وقف کول) کفر نه دی. او دحضرت علی کرم الله وجههُ څخه چی کم روایت پراولسو ۱۷ مواقعو باندی په وقف کولو سره دکفر لازمیدلو نقل کړی دی، دا صحیح نه دی. ([1]) فقط

<u>دلمانځه په حالت کي نڅا (رقص) او بل داسي عمل کول لمونځ فاسدوي اوکه نه؟ سوال</u>:

(۱۳۴۵) بعضی خلق په لمانځه کی شور او زوږ جوړ کړی، یعنی لاسونه ټکول، د هَا هُو آواز کول، ټوپونه وهل، نڅیدل (رقصیدل)، داجائز دی اوکه نه؟ بعضی ددوی مُعتقد مُلایان وایی چی په درمختار اونورو دفقهی په کتابونو کی یې لیکلی دی چی دجنت په شوق کی او ددوزخ دویری څخه ژړل لمونځ نه ماتوی. داصحیح دی اوکه نه؟

جواب: داکارونه لمونځ ماتونکی دی. او دفقهی په کتابونو کی یې ددوزخ دویری څخه او دجنت په شوق کی ژړل بیشکه جائز لیکلی دی. لیکن لاسونه ټکول او نڅا کول هیڅا جائز نه دی لیکلی. خاصکر په لمونځ کی داسی حرکتونه بالاتفاق لمونځ ماتونکی دی. وتفصیلهُ فی کتب الفقه. ([2]) فقط

([1]) اذا وقف فی غیر موضع الوقف اوابتدأ فی غیر موضع الابتداء ان لم یتغیر به المعنی تغیرا فاحشا نحو انّ الذین اٰمنو وعملوا الصالحات ووقف ثم ابتدأ بقوله اولئك هم خیر البریة لا تفسد بالاجماع بین علمائنا هٰکذا فی المحیط وکذا ان وصل فی غیر موضع الوصل الخ لا تفسد لکنه قبیح هٰکذا فی الخلاصة (عالمگیری مصری زلة القاری ج۱ ص ۷۵ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۸۱). ظفیر

([2]) والتنحنح بحرفین بلا عذر الخ اوبلا غرض الخ والانین الخ والتأوه الخ والتأفیف الخ والبکاء بصوت الخ =

دزکوٰۃ په پیسو اخستل سوو صفونو باندي لمونځ جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۴۶) که چیری یوسړی دزکوٰۃ په پیسو باندی جای نمازونه واخلی، اوپه جوماتونو کی یې ورکړی نو مالدارانو ته پرهغه باندی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟ لمونځ به یې وسی اوکه نه؟

جواب: لمونځ پرهغه باندی جائز کیږی، لیکن دهغه زکوٰۃ اداء نسو. (۱) فقط

که مقتدي دامام سره دتلاوت سجده ونکړه نو لمونځ یې کیږي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۴۷) که مقتدی په غلطی سره دامام سره دتلاوت سجده ونه کړی نو لمونځ به یې وسی اوکه نه؟

جواب: په لمونځ کی چی کمه سجده دتلاوت واجبه سی نو هغه دلمونځ څخه وروسته نه اداء کیږی اوساقطه سی. وکل سجدة فی الصلوة ولم تؤد فیها سقطت ای لم یبق السجود لها لفوات محله (۲) الخ شامی. نو معلومه سوه چی هغه سجده ساقطه سوه او دلمونځ را ګرځولو ضرورت هم نسته. البته که چیری په قصد سره یې پرې ایښی وی نو توبه دی وکړی. وفی البدایع واذا لم یسجد اثم فتلزمه التوبة (۳) در مختار. فقط

چی قرآئت په داسي ډول کوي چي پخپله يې هم نه اوري نو لمونځ کیږي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۴۸) په لمونځ کی الحَمْد اوسورت اوغیره په داسی شان سره ویل چی خپل غوږ ته یې هم آواز نه راځی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

جواب: زیاته معتبره او صحیح (خبره) داده چی په دې شان دی وایی چی که چیری څه مانع نه وی نو خپل غوږ ته یې آواز راسی. او کرخی اوبلخی بغیر ددی څخه هم لمونځ ته صحیح فرمایی. والاول اصح وارجح، شامی. (۴) فقط

که صرف دشک په وجه سجده سهوه وکی، نو لمونځ به وسي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۴۹) سجده

= لا لذکر جنة اونار الخ او یفسدها کل عمل کثیر لیس من اعمالها ولاصلاحها (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب مایفسد الصلاة ج۱ ص ۵۷۸، ط. س. ج ۱ ص ۲۱۸ - ۲۱۹). ظفیر

(۱) دزکوٰۃ پیسې په جُومات کی لګول درست نه دی دلته چونکه تملیك ونه موندل سو، په دی وجه دهغه زکوٰۃ اداء نسو. یصرف المزکی الخ تملیکا لا اباحة کمامرّ لا یصرف الی بناء نحو مسجد ولا الی کفن میت الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۵، ط. س. ج ۲ ص ۳۴۴). ظفیر

(۲) رد المحتار. باب سجود التلاوة تحت قوله اذا لم یسجد ج۱ ص۷۲۲، ط. س. ج ۲ ص ۱۱۰. ظفیر

(۳) الدر المختار علی هامش رد المحتار باب سجود التلاوة ج۱ ص۷۲۲، ط. س. ج ۲ ص ۱۱۰. ظفیر

(۴) وادنی الجهر اسماع غیره وادنی المخافتة اسماع نفسه (درمختار) اعلم انهم اختلفوا فی حد وجود القراءة علی ثلاثة اقوال فشرط الهندوانی والفضلی لوجودها خروج صوت یصل اذنه وبه قال الشافعی وشرط المریسی واحمد خروج الصوت من الفم وان لم یصل الی اذنه لکن بشرط کونه مسموعا فی الجمله حتی لو دنٰی احد صماخیه الی فیه یسمع ولم یشترط الکرخی وابوبکر البلخی السماع واکتفیا بتصیح الحروف الخ وان ما قاله الهندوانی اصح وارجح لاعتماد اکثر علمائنا (ردالمحتار فصل فی القراءة ج۱ ص ۴۹۸، ط. س. ج۱ ص۴۳۴ - ۴۳۵). ظفیر

سهوه بغير دواجبوالي دسبب څخه كه يو سړي محض دشك پر بناء باندى وكړى نو دغه لمونځ به صحيح وى اوكه نه؟

جواب: دسجده سهوى دواجبوالى څخه بغير محض دشك اوشبهى په وجهى سره سجده سهوه كول نه دى پكار. اوكه چيرى په اتفاق سره په غلطى سره يې داسى وكړل نو لمونځ به يې وسى، داعادې ضرورت يې نسته. او ائنده په داسى شك اوشبهه كى سجده سهوه كول نه دى پكار. ([1]) البته كه چيرى غالب گمان دواجب پاته كيدلو ؤ نو سجده سهوه دى دعادت مطابق ديوه سلام څخه وروسته وكړى. فقط

دسكنه (ناقوس) دړغولو په خت كى لمونځ درست دى اوكه نه؟ سوال: (١٣٥٠) په پانى پت (ښار) كى دهندوانو اومسلمانانو څه جگړه راغله. وجه يې دا وه چى دماښام دلمونځ په وخت كى هندوانو ناقوس وړغوى. په منع كولو سره منع نه سوه. معامله دعوى ته ورسيده، دوكيل په مشورې سره مسلمانانو دماښام په وخت كى اذان ويل او لمونځ كول پرې ښوول، آيا دناقوس دړغيدلو په وخت كى په دى جُوماتونو كى لمونځ كول صحيح دى اوكه نه؟

جواب: په دى حالت كى لمونځ صحيح ([2]) دى. اولمونځ نه كول اوپه دغه جُومات كى اذان اوجماعت پرې ښوول ښه نه دى. فقط

كه دلمونځ گزار مخ ته ښځه يابل يو حيوان تير سى نو لمونځ به وسى او كه نه؟ سوال: (١٣٥١) دلمونځ گزار مخ ته كه چيرى سپى يابل څه حيوان يا ښځه تيره سى نو دهغه لمونځ به فاسد سى اوكه نه؟

جواب: كه دلمونځ گزار مخ ته سپى يابل څه حيوان ياښځه تيره سى نو دهغه لمونځ به فاسد نسى. په در المختار كى دى: ولا يفسدها مرور مارٍّ الخ ولو امرأة اوكلبًا ([3]) الخ. اوپه شامى كى دحلبي څخه منقول دى چى په دى باره كى كم څه په حديث كى راغلى دى هغه منسوخ دى يامُوول ([4]) . كما هومنقول فى الشروح والحواشى، پرهرحال اعاده ددغه

([1]) ولو ظن الامام السهو فسجد له فتابعه فبان ان لا سهو فالاشبه الفساد (درالمختار) وفى الفيض وقيل لا تفسدوا به يفتى (ردالمحتار قبيل باب الاستخلاف ص ٥٢٠، ط. س. ج ١ ص٥٩٩) كله چى دمسبوق لمونځ فاسد نه سو، نو دنورو لمونځ خو په درجه اول نه فاسديږى. ظفير

([2]) ځكه چى هيڅ شى دلمونځ دمفسداتو څخه موجود سوى نه دى. ظفير

([3]) الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار باب مايفسدالصلوة ومايكره فيها ج١ ص٥٩٣ ، ط. س. ج١ ص٢٣۴. ظ

([4]) ولو امرأة او كلبا بيان للاطلاق واشار به الى الرد على الظاهريه بقولهم يقطع الصلوة مرور المرأة والكلب والحمار وعلى احمد فى الكلب الاسود والى ان ما روى فى ذالك منسوخ كما حققه فى الحلية (رد المحتار باب ايضًا ج١ ص ٥٩٣ ، ط. س. ج ١ ص ٢٣۴). ظفير

لمونځ واجبه نه ده. فقط

دپښو په ښورولو سره لمونځ نه فاسدیږي: **سوال**: (۱۳۵۲) په لمانځه کی دقیام دځای څخه ددواړو پښو ښوریدل لمونځ فاسدوي اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی لمونځ نه فاسدیږی. ([1])

په ناقوس رغیدلو سره په لمونځ کی هیڅ خرابی نه راځی: **سوال**: (۱۳۵۳) که چیری دلمونځ په وخت کی دضد په وجه ناقوس وږغول سی اوشور اوشر جوړ کړل سی نو په لمونځ کی شرعًا نقصان راځی اوکه نه؟

جواب: که چیری دحاکمانو په ذریعه ددی انسداد کیدی سی نوانسداد یی ضروری دی. ولی که څه هم چي په لمونځ کی دچاپه شور اوشر اوناقوس رغولو سره فساد نه راځی لیکن لمونځ گزارو ته به تشویش اودزړه دتوجه خرابیدل اوعدمِ خشوع اوخضوع ددی په وجهی سره ضرور وی، لهٰذا ضروری ده چی دَحاکمانو په ذریعه سره هغوی دلمونځ په وخت کی ددی څخه بند کړل سی، ولی چی فقهاؤ په جُومات کی دلمونځ په وخت کی دجَهري ذکر څخه هم منع فرمایلی ([2]) ده. ځکه چی په دی سره په لمونځ کی دزړه توجّه خرابیږی. او ممکنه ده چی دلمونځ گزار څخه قراءت وغیره هیر سی. نوکله چی دپه زوره ذِکر څخه دلمونځ په وخت کی منع کیږی نو باجه رغول اوناقوس رغول دلمونځ وخت کی ظاهره ده چی ډیره بده خبره ده لیکن چونکه مسلمانانو ته قدرت نسته چی پخپله یې بند کړی. لهٰذا دحاکمانو په ذریعې سره یې که انسداد کیدی سی نو ودی کړل سی. فقط

دښځی په محاذات کی دکیدلو مطلب؟ **سوال**: (۱۳۵۴) دښځی دمحاذات څخه څه مراد دی، او دا داجنبی ښځی څخه کیږي اوکه دمُحرمی څخه هم؟

جواب: محاذات دښځی دسړی څخه دری ([3]) طرف ته لمونځ ماتونکی دی. په شامی کی دی: وقد صرحوا بان المرأة الوحدة تفسد صلٰوة ثلثة الخ من عن یمینها ومن عن یسارها ومن عن خلفها ([4]) اودا عبارت عام دی که ښځه محرمه وی اوکه غیر محرمه وی. شامی

([1]) وان حرك رجلاً واحدا لا علی الدوام لا تفسد صلوته (عالمگیری کشوری باب مایفسد الصلوة ج۱ ص۱۰۳ ، ط. ماجدیه ج۱ ص ۱۰۳). ظفیر

([2]) ویکره الخ رفع صوت بذکر (درمختار) لانه حیث خیف الریاء اوتاذی المصلین الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة مطلب فی رفع الصوت بالذکر ج۱ ص ۲۱۸ ، ط. س. ج ۱ ص ۶۵۹ – ۶۶۰). ظفیر

([3]) رد المحتار باب الامامة مسئله محاذات ج۱ ص ۵۳۵ ، ط. س. ج ۱ ص ۵۷۲ . ظفیر

([4]) المرأة اذا صلت مع زوجها فی البیت ان کان قدمها بحذاء قدم الزوج لاتجوز صلاتهما بالجماعة (ایضًا) قوله غیر معلول بالشهوة ، ای لیست علة الفساد الشهوة ولذا فسدنا بالعجوز الشوهاء وبالمحرم کأمه وبنته (ایضًا ج۱ ص ۵۳۹ ، ط. س. ج۱ ص۵۷۲). ظفیر

که چیری سړی ښځه ښُکل کړی، یاښځه سړی، نو لمونځ به وسی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۵۵) سړی په لمانځه کی وو، ښځی هغه ښُکل کړی، په دې سره سړی ته خواهش پیدا سو نو دښځی لمونځ نه ماتیږی اګر چی داهم دهغی خپل فعل نه دی. دزید دا خبره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په در المختار کی یې دا مسئله په داشان لیکلی ده چې که چیری سړی ښځه په لمانځه کی ښُکل کړه، یعنی ښځی لمونځ کوی او په دی حالت کی سړی مچه ورڅخه واخسته برابره خبره ده که شهوت یې وي اوکه نه وي نو دښځی لمونځ به فاسد سی. اوکه چیري سړی لمونځ کوی اوښځی مچه ورڅخه واخسته اودسړی شهوت پیدا سو نودسړی لمونځ مات سو. اوکه دسړی شهوت پیدا نسو نو لمونځ به یې فاسد نه سی. عبارت یې دادی: مسها بشهوة اوقبلها بدونها فسدت لا لو قبّلت ولم یشتهها (١) الخ در المختار. فقط

پوسټ کارډ یا دټیلو ډبی چې په جیب کی وی نو لمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۵۶) پوست کارډ او سِکه مروّجه او دټیلو ډبی پرکمو باندی چی دساه لرونکو شیانو تصویر وی. که چیری یې په جیب کی واچوی اولمونځ ورسره کوی نو لمونځ به یې درست وی او که نه؟

دریری وریښتان چی مښتی وی نو لمونځ نه فاسدیږی؟ سوال: (۱۳۵۷) دریری مات سوی وریښتان کم چی په ږیره کی مښتی وی نو په لمونځ کی خو به څه فرق نه راځی؟

جواب: (۱) لمونځ ورسره کیږی. (٢)

جواب: (۲) په دې سره په لمونځ کی څه خلل نه راځی اودغه مات وریښتان ناپاك نه دی.

دلمونځ په حالت کی په دُنیاوی خیالاتو راتللو سره لمونځ نه فاسدیږی: سوال: (۱۳۵۸) په لمانځه کی په دُنیاوی خیالاتو او وسوسو پیدا کیدلو سره لمونځ درست کیږی اوکه نه؟

جواب: په لمانځه کی په خیالاتو راتللو سره په لمونځ کی فسادنه راځی، خو حتی الوسع وسوسی او خیالا ت دفع کوی. (٣) فقط

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص٥٨٧، ط.س. ج١ ص٢٢٨. ظ

(٢) وان یکون فوق راسه اوبین یدیه اوبحذائه تمثال الخ ولایکره لوکانت تحت قدمیه الخ اوعلی خاتمه بنقش غیر مستبین قال فی البحر ومفاده کراهة المستبین لا المستتر بکیس او صرّة او ثوب آخر اوکانت صغیرة لا تتبین تفاصیل اعضائها للناظر قائما الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ویکره فیها ج١ ص٢٠٦ – ٢٠٧ ، ط. س. ج ١ ص٢٤٨). ظفیر

(٣) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ان الله تجاوز عن امتی ما وسوست به صدرها ما لم تعمل به او تتکلم، متفق علیه (مشکوٰة باب الوسوسه فصل اول ص ١٨). ظفیر

که مسافر امام لمونځ پوره وکی نو دمقیم مقتدي لمونځ به ونه سی: **سوال:** (۱۳۵۹) یومسافر امام په هیره سره پرځای ددوو رکعتو څلور رکعته وکړه اومقتدیان ټول مقیم دي. اوڅه خلق چي په وروستنیو دوو رکعتونو کی شامل سوی دی نو دامام اومقتدیانو لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

جواب: دمسافر امام لمونځ خو په دې صورت کی کیږي خو سجده سهوه ورباندې لازمه ده او دباقی مقتدیانو لمونځ صحیح نه دی. ([1]) فقط

دلمونځ په حالت کي دجُومات دصحن څخه دننه جُومات ته په تللو سره لمونځ فاسدیږی اوکه نه؟ **سوال:** (۱۳۶۰) زید دجُومات په صحن کی لمونځ ورکوی چی اوبه په زور سره راغلی نو نیت یې مات کی. بکر مقتدی ورته وویل، چی ته به دننه تللی وای، دقبلی څخه دمخ اړولو څخه بغیر نو مقتدیان هم دننه ورتلی سوای. لمونځ ماتول نه وو پکار. زید ورته وویل، چی په دې ډول سره لمونځ فاسدیږی ولی چی داعمل کثیر دی. دزید قول صحیح دی اوکه دبکر؟

جواب: دزید قول صحیح دی. زید ته همدغه ډول کول پکار وو لکه څنګه چي یې وکړه، ځکه چی په دې صورت کی بغیر دخلاف څخه دهغه لمونځ صحیح سوکله چی هغه دنوی سره لمونځ وکی، اوکه چیری هغه په لمانځه کی دننه جومات ته تللی وای اوبیا مقتدیان هم ورغلی وای، نو په دې سره به دټولو څخه عملِ کثیرسوی وای اوداعند البعض مفسد دی. اوتفصیل یې په شامی کی دی. ([2]) فقط

په مَجرِیْهَا کی په اماله نه کولو سره لمونځ کیږی او که نه؟ **سوال:** (۱۳۶۱) په: بِسْمِ اللهِ مَجْرِیْهَا کی که چیری اِماله ونه کړی نو لمونځ به وسی او که نه؟

([1]) ولو نوی الاقامة لا لتحقیقها بل لیتم صلوة المقیمین لم یصر مقیما(در المختار) فلو اتم المقیمون صلاتهم معه فسدت لانه اقتداء المفترض بالمتنفل، ظهیریه، ای اذا قصدوا متابعته اما لو نووا مفارقته ووافقوه صورة فلا فساد (ردالمحتار باب صلاة المسافر ج۱ ص۷۴۱ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۰). ظفیر

([2]) ویفسدها کل عمل کثیر لیس من اعمالها ولا لاصلاحها (در المختار) الثالث الحرکات الثلاث المتوالیة کثیر والاّ فقلیل الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلاة ج۱ ص۵۸۳ – ۵۸۴) مشٰی مستقبل القبلة هل تفسد ان قدر صف ثم وقف قدر رکن ثم مشٰی ووقف کذالك وهٰکذا لاتفسد وان کثر ما لم یختلف المکان وقیل لا تفسد حالة العذر ما لم یستدبر القبلة استحسانا (در مختار) اما ان کان اماما فجاوز موضع سجود فان بقدر ما بینه وبین الصف الذی یلیه لا تفسد وان اکثر فسدت وان کان منفردا فالمعتبر موضع سجوده فان جاوزه فسدت والاّ فلا الخ قوله: لا تفسد حالة العذر الخ والقیاس الفساد اذا کثر الخ ثم اختلفوا فی تاویله اذا لم یجاوز الصفوف او موضع سجوده والا فسدت وقیل اذا لم یکن متلاحقًا بل خطوة ثم خطوة فلو متلاحقا تفسد وان لم یستدبر القبلة لانه عمل کثیر الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۸۶ – ۵۸۷ ، ط. س. ج۱ ص۲۲۴ - ۲۲۵). ظفیر

جواب: لمونځ کیږی خو دا دقراءت غلطی ده چی په امالې سره ونه لوستل سی. فقط

دسیپ دبټنو سره لمونځ جائز دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۳۲۲) دسیپ بټنی (تنی) چی په جامو کی لګیدلی وی نو لمونځ ورسره جائز دی اوکه نه؟ هسی خو سیپ حلال اوپاك دی.

جواب: لمونځ صحیح دی او سیپ حلال اوپاك دی. (۱) فقط

دقراءت دځه حصې په پاته کیدو سره لمونځ کیږی او که نه؟ **سوال**: (۱۳۲۳) دسورت مزمّل آخرِی رکوع په لمانځه کی ولوستل سوه خو سهوًا د: وَمَا تُقَدِّمُوْا ، څخه تر: وَاَعْظَمَ اَجْرًا ، پوری پاته سو، نو لمونځ وسو اوکه نه؟ په دې صورت کی زید دلمونځ راګرځول واجب بولي، دا صحیح دي اوکه نه؟

جواب: لمونځ وسو. دزید قول صحیح نه دی. کذا فی الدر المختار وغیره من کتب الفقه. (۲) فقط

دامام په هیروالی باندی فتحه ورکول درست دی: **سوال**: (۱۳۲۴) امام په جهری لمونځ کی ایت ولوستی او مخ ته ورځخه هیر سو، مقتدی فتح ورلره ورکړه نوامام مخ ته نور ووایه او رکوع یې وکړه. بیا یې په آخره کی سجده سهوه هم وکړه، نو دامام او مقتدی او فتح ورکونکی لمونځ صحیح سو او که نه ؟

چی امام فتحه وانخلی نو دورکونکی لمونځ به فاسد سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۳۲۵) که چیری امام فتحه وانخلی نو دفتح ورکونکی مقتدی لمونځ فاسدیږی او که نه؟

جواب: دامام اومقتدی اوفتح ورکونکی لمونځ په دی صورت کی صحیح سو او دسجده سهوی هم ضرورت نه وو، لیکن که چیری سجده سهوه په غلطی سره وکړل سوه نوبیا هم لمونځ وسو. کذا فی الدر المختار. (۳)

(۲). لمونځ نه فاسدیږی. فقط

دغوایانو په روانه ګاډۍ کی لمونځ جائز دی: **سوال**: (۱۳۲۶) دغوایانو په روان ګاډی کی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: په روانه ریل ګاډۍ (اور ګاډۍ) کی لمونځ جائز دی. دغوایانو په روانه ګاډۍ کی

---

(۱) وشعر المیتة وعظمها الخ وکذا کل ما لا تحله الحیاة الخ طاهر (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب المیاه ج۱ ص۱۹۰ ، ط. س. ج ۱ ص ۲۰۲). ظفیر

(۲) وتجب قراءة الفاتحة وضم السورة اوما یقوم مقامهما من ثلاث ایات قصار او اٰیة طویلة (عالمگیری واجبات الصلوة ج۱ ص۷۲ ، ط. ماجدیه. ج۱ ص۷۱). ظفیر

(۳) بخلاف فتحه علی امامه فانه لا یفسد مطلقًا لفاتح واخذ بکل حال (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ما یفسد الصلوة ج۱ ص۵۸۲ ، ط. س. ج ۱ ص۶۲۲). ظفیر

بی عذره لمونځ درست نه دی. (١)

دغلط ویونکی لمونځ درست دی اوکه نه؟ **سوال:** (١٣٦٧) یو شخص په قرآءة کي ولغ ضالین وایی او یا روب العٰلمین، او الروحمن آلروحیم وايي لمونځ يې درست دی که نه؟

جواب: په دې صورت کي لمونځ نه دی سوی او حکم دالثغ او داسي نورو په کتابو کي دفقه باید وګوری. (٢) فقط

دکومو اوبو أجرت چی مزدورانو لره ورنه کړل سی ، په هغه اوبو سره اودس او لمونځ جائز دی اوکه نه؟ **سوال:** (١٣٦٨) په یوه جومات کی داودس وغیره دپاره داوبو ډکولو دپاره مزدوران وغیره مقررول کیږی ، او هغوی ته ویل کیږی چی تاسی په ښه ډول سره داوبو لوښي ډکوی، تاسی ته به ددې أجرت او مزدوری درکړو. اوس دبعضو خیال دی چی مزدوری ورکړل سی او دبعضو داخیال دی چی ورنکړل سی. نوکم اودسونه او لمونځونه چی په دغه اوبو سره سوی دی هغه درست دی اوکه نه؟

جواب: ددغه مزدور أجرت او مزودوری ور کول پکاردی (٣) . او اودسونه او لمونځونه وسوه. فقط

په قومه او جلسه کی تعدیل: **سوال:** (١٣٦٩) دجُمعی دلمونځ په قومه او جلسه کی امام دومره وخت دریږی چه یوکوچنی سورت په ښه ډول ویل کیدی سی. په دې سره په لمونځ کی څه نقصان خو به نه واقع کیږی؟

جواب: په دې صورت کی لمونځ صحیح دی. هیڅ نقصان نه دی پکښی راغلی. (٤) فقط

دامام درکعت دکموالي په وجه سره دټولولمونځ فاسدیږي: **سوال:** (١٣٧٠) دماښام په لمونځ

---

(١) واما الصلوة علی العجلة ان کان طرف العجلة علی الدابة وهی تسیر اولا تسیر فهی صلوة علی الدابة فتجوز فی حالة العذر المذکور فی التیمم لا فی غیرها ومن العذر المطرَ وطینٍ یغیب فیه الوجه الخ (در المختار) قوله المذکور فی التیمم بان یخاف علی ماله او نفسه او تخاف المرأة من فاسق (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی الصلوة علی الدابة ج١ ص٦٥٢ ، ط. س. ج٢ ص٤٠). ظفیر

(٢) ولا غیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح کما فی البحر عن المجتبی وحرر الحلبی وابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائما حتماً کالامی فلا یوم الاَّ مثله ولا تصح صلاته اذا امکنه الاقتداء بمن یحسنه الخ (درالمختار) اللثغ التحریك قال فی المغرب هو الذی یتحول لسانه من السین الی الثاء وقیل من الراء الی الغین او اللام او الیاء ، زاد فی القاموس اومن حرف الی حرف الخ الاحوط عدم الصحة (ردالمحتار باب الامامة، مطلب في الألثغ ج١ ص٥۴۴ ، ط. س. ج ١ ص ٥٨١ – ٥٨٢). ظفیر

(٣) قال رسول الله ﷺ اعطوا الاجیر اجراً قبل ان یجف عرقه رواه ابن ماجه (مشکوٰة باب الاجارة ص٢٥٨). ظفیر

(٤) وتعدیل الارکان ای تسکین الجوارح قدر تسبیحة فی الرکوع والسجود وکذا فی الرفع منهما علی ما اختاره الکمال (درالمختار) ای یجب التعدیل ایضًا فی القومة من الرکوع والجلسة بین السجد تین الخ (رد المحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلاة ج١ ص۴٣٢ ، ط. س. ج ١ ص ۴٦۴). ظفیر غفر له

کی امام پردوو رکعتو باندی سلام وگرځوی او فتح یې وانه خیسته ، مقتدیان ولاړ سول اودریم ۳ رکعت یې وکی، نو لمونځ وسو او که نه؟

جواب: په دې صورت کې دامام او مقتدیانو لمونځ ونسو، بیا یې کول پکار دی. (١)

دفرضو په څلورو واړو رکعتونو کی دسورت په یوځای کولو سره لمونځ نه فاسدیږی: سوال: (١٣٧١) دمازدیگر په څلورو واړو رکعتونو کی یې سورت ووایه نو لمونځ وسو او که نه ؟ بغیر دسجده سهوی دکولو څخه ؟

جواب: بغیر دسجده سهوی څخه لمونځ وسو (٢). فقط

که مقتدي دامام سره رکوع ونه کړه، نو هغه څه وکړي؟ سوال: (١٣٧٢) مقتدی په لمانځه کی داول څخه شریك دی او دهغه څخه په څه وجهی سره رکوع کول هیرسوه. بیاپه سجده کی شریك سو نو لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: دغه مقتدي ته لازم دي چي که چیري ده په لمونځ کي دننه رکوع نه وي کړي نو دامام دفارغ کیدلو څخه وروسته دی ولاړ سي او رکوع دی وکړي، او سجده سهوه دی وکړي ، نو هغه وخت به یې لمونځ وسی. (٣) فقط

دلمونځ په مینځ کی دسلام ګرځولو څخه وروسته په خبرو کولو سره لمونځ فاسدیږی: سوال: (١٣٧٣) امام سهواً پردری ۳ رکعتو باندی سلام وگرځوی، چا فتح ورلره ورنه کړه او په امام او مقتدیانو کی ډیر کلام وسو. نو اوس باقی یورکعت وکړی اوکه څلور رکعتـه. او کلام والا حدیث منسوخ دی اوکه نه؟

جواب: کله چی پر دریم ۳ رکعت باندی دسلام ګرځولو څخه وروسته په امام او مقتدیانو کی کلام وسو نوڅلور واړه رکعته بیا کول ضروری دی ولی چی دکلام والا حدیث تاویل کړل سوی دی یامنسوخ دی. دهغه په ظاهرباندی عمل نسته ولی چی کلام دلمونځ منافی

---

(١) واذاظهر حدث امامه وكذاكل مفسد فی رای مقتد بطلت فيلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا (درالمختار) فلو قال المصنف كما فی النهر ولوظهر ان بامامه مايمنع صحة الصلوة لكان اولى ليشمل ما لو اخذ بشرط اوركن الخ (رد المحتار باب الامامة ج١ ص ٥٥٣ ، ط. س. ج ١ ص ٥٩١). ظفير

(٢) واكتفى المفترض فيما بعد الاوليين بالفاتحة فانها سنة على الظاهر ولو زاد لا باس به (در المختار) ای لو ضم اليها سورة لاباس به لان القراءة فی الاخريين مشروعة من غير تقدير والاقتصار على الفاتحة مسنون لا واجب فكان الضم خلاف الاولى وذلك لا ينافی المشروعية والاباحة بمعنى عدم الاثم فی الفعل والترك (رد المحتار باب صفة الصلاة فصل تاليف الصلاة ج١ ص ٤٧٧، ط. س. ج ١ ص٥١١). ظفير

(٣) ورعاية الترتيب بين القراءة والركوع وفيما يتكرر اما فيما لا يتكرر ففرض كمامر فی كل ركعة كالسجدة او فی كل الصلوة كعدد صلاتها حتى لو نسى سجدة من الاولى قضاها ولو بعد السلام قبل الكلام لكنه يتشهد ثم يسجد للسهو ثم يتشهد الخ (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب صفة الصلاة مطلب واجبات الصلاة ج١ص ٤٢٩ وج١ ص٤٣٢ . ط. س. ج ١ ص ٤٢٠ وص ٤٢٣). ظفير

دی، قال الله تعالٰی: وقوموا لله قانتین. ([1]) فقط

سجده سهوه درکعت قائم مقام نه ده: سوال: (۱۳۷۴) امام دماخستن په لمانځه کی پر دری رکعتو باندی سهواً کښینستی، په دی خیال سره چی څلور۴ پوره سول، لیکن هغه ته فوراً یقین وسو چی دری ۳ رکعته سوی دی ، هغه التحیات پوره کړه او سجده سهوه یې وکړه او په هم دری ۳ رکعتو باندی یې سلام وګرځوی، لمونځ وسو اوکه نه ؟

چا چی اعاده وکړه دهغه لمونځ وسو: سوال: (۱۳۷۵) که چیری چا یوازي خپل لمونځ راوګرځوی نو وسو او که نه ؟

جواب: (۱) په دی حالت کی لمونځ ونه سو . ([2])

(۲) راګرځول دلمونځ ټولو لره ضروری دی. او چاچی یوازي راوګرځوی دهغه لمونځ صحیح سو. ([3]) فقط

دهمزه او سین په غلط اداء کولو سره به لمونځ فاسد سی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۷۶) زید په لمانځه کی په سورۃ قیامة کی (لِسَانَكَ) په (لِسَاَنَكَ) دهمزه سره ولوستی او په: وُجُوْهٌ یَّوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ، کی یې دبَاسِرَةٌ پرځای بَاصِرَةٌ ولوستی، نو په دی صورت کی لمونځ فاسد سو اوکه نه؟

جواب: په دی دواړو صورتونو کی لمونځ وسو. لِسَاَنَكَ مهموز ویل لحن فی الاداء دی، او معنی نه بدلیږی ، او د: بَاسِرَةٌ او: بَاصِرَةٌ په معنٰی کي بیشکه چي توپیر سته خو دا غلطي لمونځ ماتوونکي نه ده، ځکه لکه څنګه چي به مخونه باسره یعني (شدید العبوس) وي باصرة به هم وي یعني کتونکي به هم وي، فلا فساد. الخ ([4])

([1]) یفسدها التکلم هو المنطق بحرفین اوحرف ولو مفهم الخ عمده وسهوه قبل قعوده قدر التشهد سیان الخ وحدیث ذی الیدین منسوخ بحدیث مسلم انّ صلاتنا هذا لا یصلح فیها شیئ عن کلام الناس (والتفصیل فی الشامی) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها ج۱ص ۵۷۴ – ۵۷۵ ، ط. س. ج ۱ ص ۲۱۳). ظفیر

([2]) درکعت تلافی په سجده سهوی سره نه کیږی. په دی وجه لمونځ ونسو. سجده سهو دترك واجب اودهغه دتقدیم اوتاخیر وغیره دپاره ده. یجب الخ بترك الخ واجب مما مر فی صفة الصلوة سهواً الخ وتاخیر قیام الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب سجود السهو ج۱ص ۲۹۳ ، ط. س. ج۲ ص ۷۹ – ۸۰). ظفیر

([3]) واذا ظهر حدث امامه وکذا کل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او رکن (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج۱ص ۵۵۳ ، ط. س. ج۱ ص ۵۹۱). ظفیر

([4]) ومنها القراءة بالالحان إن غیّر المعنی وإلا لا (درمختار) أی وإن لم یغیّر المعنی فلا فساد الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ج۱ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج ۱ ص ۲۳۰) اوبدله بآخر الخ لم تفسد مالم یتغیر المعنی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ایضا ج۱ ص ۵۹۲ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۳). ظفیر

دفتح ورکولو طریقه څنګه ده؟ سوال: (١٣٧٧) که چیري په لمانځه کي امام سهوه سي نو دفتح ورکولو طریقه څنګه ده؟

جواب: د (سبحان الله) په ویلو سره دي امام ته فتح ورکړل سي. ([1])

چي امام التحیات پریږدي او ولاړ سي نو دالتحیات په ویلو وریادول څنګه دي؟ سوال: (١٣٧٨) که چیري په لومړنی قعده کي له امام څخه التحیات ویل هیر سي او په پورته کیدو سي او مقتدي ورته دالتحیات په ویلو سره التحیات وریاده کړي نو په لمانځه کي خو به څه خرابي نه راځي؟

جواب: سبحان الله ویل پکار دي خو که دالتحیات لفظ ووایي هم لمونځ صحیح دی. فقط ([2])

په سبحان الله ویلو سره فتح ورکول له حدیث شریف څخه ثابت دي اوکه نه؟ سوال: (١٣٧٩) یو سړی دامام دسهوي په هر صورت کي هغه ته په سبحان الله ویلو سره فتح ورکول غوره او اولی ګڼي دا له حدیث شریف څخه ثابت دي اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کي همدغه ډول راغلي دي. ([3]) فقط

سجدې ته دتللو په وخت دپرتوګ په پورته کولو باندي لمونځ فاسدیږي او که نه؟ سوال: (١٣٨٠) په لمانځه کي سجدي ته دتللو په وخت کي چي څوك په دواړو لاسونو سره پرتوګ پورته کوي دا په فعل کثیر کي داخل دي او که نه؟

جواب: دا په فعل کثیر کي داخل نه دي، او لمونځ په دي سره نه فاسدیږي. البته داسي کول ښه نه دي . ([4])

چي دماخستن فرض بې اودسه وکړي او سنت او وتر په اوداسه سره، نو آیا سنت به هم بیرته راګرځوي او که نه؟ سوال: (١٣٨١) که څوك دماخوستن فرض په هیره سره بې اودسه وکړي او سنت او وتر په اوداسه وکړي او په وخت کي دننه ورپه یاد سي نو له فرضو

([1]) او یدفع بالتسبیح لما روینا من قبل، هدایه، قوله: لما روینا من قبل یعني قول النبی ﷺ إذا نابت أحدکم نائبة وهو في الصلوة فلیسبح (حاشیه هدایه ص ١٢٤ باب ما یفسد الصلوة). ظفیر

([2]) ایضا . ظفیر

([3]) قال علیه الصلوة والسلام والتسبیح للرجال والتصفیق للنساء (ردالمحتار باب شروط الصلوة ج١ ص ٣٧٧ ، ط. س. ج١ ص ٤٠٢). ظفیر

([4]) ویفسدها کل عمل کثیر لیس من اعمالها ولا لإصلاحها وفیه أقوال خمسة أصحها ما لایشك بسببه الناظرین من بعید في فاعله أنه لیس فیها وإن شك أنه فیها أم لا، فقلیل (درمختار) القول الثاني أن ما یعمل عادة بالیدین کثیر وإن عمل بواحد الخ وماعمل بواحدة قلیل وإن عمل بهما کحل السراویل الخ (رد المحتار باب مایفسد الصلوة ج١ ص ٥٨٤ ، ط. س. ج١ ص ٦٢٤ – ٦٢٥). ظفیر

سره دسنتو اعاده پکار ده نه دوترو دامام صاحب په نزد ، او دصاحبینو په نزد به دوترو اعاده هم کوي ددي وجه څه ده؟

جواب: دا مسئله په وخت کي دننه دلمونځ کولو ده ، او وجه دسنتو دراګرځولو او دوترو دنه راګرځولو دامام اعظم رحمه الله له مذهب سره سم داده، چي سنت دفرضو تابع دي او وتر چي کله ځانته واجب دي او ادا يي په اوداسه سويده نو راګرځول نه غواړي، او صاحبين چي کله وترو ته سنت وايي ځکه نوهغوی دفرضو سره دوترو دراګرځولو حکم فرمايي، او دمسئلي صورت دادی چي تر لمانځه وروسته په وخت کي دننه ور په ياد سي، او که چيري دوخت له تيريدو څخه وروسته ورپه ياد سوه نو يوائي دماخستن فرض دي وکړي، بس. (١) فقط

دسپرټ پر پالش باندي لمونځ کول صحيح نه دي: **سوال**: (١٣٨٢) هل تجوز الصلوة على الموائد اللتي تزين بخلاصة الخمر أم لا ؟

ځواب: ما كان فيه إختلاط خلاصة الخمر (سپرټ) فهو نجس لا تجوز الصلوة عليه بلا بسط الثوب الطاهر. فقط (٢)

دلاحق فتحه ورکول درست دي: **سوال**: (١٣٨٣) په لمانځه کی ديو مقتدی لمونځ مات سو. کله چی داودس کولو دپاره ولاړی، دلمونځ څخه خارج څه کار يې ونه کی. اوس هغه امام په متشابه آيتونو کي ولګيدی (يعنی غلط سو) او دې اودس کوونکي لاحق امام ته فتح ورکړه ، اوهمدغه لاحق دجومات څخه وتلی نه وو، شاه صاحب ليکلی دی چی په لمونځ کی څه نقصان نه راځی ، او تاسو ليکلی دی چی لمونځ نه کيږی؟

جواب: دلاحق په فتح ورکولو سره اوامام ته په اخيستلو سره په لمونځ کی هيڅ خلل نسته. همدا صحيح ده (٣) ولی چی دلاحق دپاره هغه امام دی حُکمًا، اومام ته په فتح ورکولو او اخستلو سره په لمونځ کی فساد نه راځی. (٤) او مخکنی ليکل مي په ياد نه

---

(١) وعلى هذا إذا صلى العشاء ثم توضا وصلى السنة والوتر ثم تبين أنه صلى العشاء بغير طهارة فعنده يعيد العشاء والسنة دون الوتر لأن الوتر فرض على حدة عنده وعندهما يعيد الوتر ايضا لكونه تبعا للعشاء والله اعلم. (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص ١٣٩). ظفير

(٢) وبه يعلم أن ما يستقطر من دردى الخمر وهو المسمى بالعرقي في ولاية الروم نجس حرام كسائر أصناف الخمر (ردالمحتار باب الأنجاس مطلب العرقي الذي يسقي من دردى الخمر ج١ ص ٣٠٠، ط. س. ج١ ص٣٢٥). ظفير

(٣) بخلاف فتحه على امامه فانه لايفسد مطلقًا لفاتح واٰخذ بكل حال (الدر المختار على هامش رد المحتار باب ما يفسد الصلوة ج١ص ٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٦٢٢). ظفير

(٤) واللاحق من فاتته الركعات كلها اوبعضها لكن بعد اقتدائه الخ وحكمه كمؤتم الخ (ايضاً باب الامامة ج١ ص ٥٥٧ ، ط. س. ج١ ص٥٩٤). ظفير

دی شاید هغه په دې صورت کی لیکل سوی وی چی لاحق یو فعل دلمونځ ماتوونکی کړی وی. فقط

صرف د آواز ښائسته کولو دپاره په ټوخیدلو سره لمونځ ماتیری اوکه نه؟ **سوال:** (۱۳۸۴) که چیری په فرض لمونځ کی امام صاحب بی عذره غاړه تازه کړی کم چی محض دآواز ښائسته کولو دپاره وی، اودکمو شمېر چی تر دری ۳ څلور پوری رسیدلی وی، نوپه دی غاړه تازه کولو سره به لمونځ فاسد سی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار: والتنحنح بلا عذر الخ فلو لتحسین صوته الخ فلا فساد علی الصحیح ([1])، ددی څخه معلومه سوه چی دآواز ښائسته کولو دپاره په غاړه تازه کولو سره لمونځ نه ماتیږی. اگرچی دری ۳ واری یا کم او زیات وی، لا طلاق الروایة.

که په ځنګل کی لمونځ ګزار سُتره ښخه نکړی نو پرکم ځای تیریدل پکاردی ؟ **سوال:** (۱۳۸۵) که چیری یو سړی په جومات یاځنګل کی لمونځ کوی، او سُتره یې نه وي درولي، نو ترڅومره ځای پوری دهغه مخ ته تیریدل نه دی پکار؟

جواب: په ځنګل کی دلمونځ ګزار نظر چی ترکم ځای پوری رسیږی دهغه ځای څخه ها خوا مخ ته تلل درست دی. ([2]) فقط

دټوپک په آواز اوریدلو سره چی دلمونځ ګزار دخولی څخه الاّ الله ووزی نو لمونځ کیږی او که نه؟ **سوال:** (۱۳۸۶) یو سړی لمونځ کوی ناګهانه دټوپك یا ګولی اواز دهغه غوږ ته راغی، بی اختیاره دهغه دخولی څخه الاّ الله ووتل، په دی صورت کی لمونځ فاسدیږی او که نه؟ او لفظ د: اِلاّ الله ، بغیر د: لاَ اِله دذکر څخه ویل جائز دی او که نه ؟

جواب: قال فی الدرالمختار ولو سقط شیئ من السطح فَبَسْمَلَ او دعٰی لاحد او علیه فقال آمین تفسد ولا یفسد الکل عند الثانی والصحیح قولهما الخ ، وفی رد المحتار قوله: فبسمل یشکل علیه ما فی البحر لو لدغته عقرب او اصابه وجع فقال بسم الله قیل افسد لانه کالامین وقیل لا لانه لیس من کلام الناس. وفی النصاب علیه الفتوی وجزم به فی الظهیریة وکذا لو قال یا رب کما فی الذخیرة. ([3]) الخ، نو معلومه سوه چی په پوښتل سوی صورت کی راجح دلمونځ عدمِ فساد دی. اوذِکر د: اِلاّ

([1]) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۷۸ ، ط. س. ج۱ ص۶۱۸. ظ

([2]) ولایفسدها نظره الی مکتوب الخ ومرور مار فی الصحراء وفی مسجد کبیر بموضع سجوده فی الاصح مروره بین یدیه الخ فی بیت ومسجد صغیر الخ وان اثم المارّ فی ذالك المرور لوبلاحائل الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب مایفسد الصلوة وما یکره فیها ج۱ ص۵۹۳ ، ط. س. ج۱ ص۶۳۴ - ۶۳۲). ظفیر

([3]) رد المحتار باب ما یفسد الصلوة وما یکره فیها ج۱ ص۵۸۱ ، ط. س. ج۱ ص ۶۲۱ - ۶۲۲ . ظفیر

الله بغير دلا اله څخه پـه صـوفياء کراموکي معـروف او مُروّجَ دی اودرست دی ولـی چی مقصود په دی کی اثبات بَعدَ النفی دی. ددی دپاره صوفياء کرام چی کله دا ذکر فرمايي نواول پوره کلمه لاَ اِله الاَّ الله ووايي، بيا دی دنفی داول سره داثبات کلمه يو ځای کوی. اودا ظاهره ده چی د: اِلا الله څخه مقصود همدا وی، چی هيڅوك معبود او مقصود دالله څخه ماسِوا نسته.

دجُمعي په لمونځ کی فتحه ورکول درست دی اوکه نه؟ سوال: (١٣٨٧) زيد دجُمعی پـه لمونځ کی امام وو، هغه سورت هَلۡ اَتیٰ شروع کړی او په آخره کی بند سو، بکر مقتدی فتح ورلره ورکړه په دی صورت کی لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی لمونځ وسو. (١)

دبيری په حالت کی په کجاوه کی لمونځ کيری او که نه؟ سوال: (١٣٨٨) دمکی معظی څخه چی کمه قافله مدينی منوری ته ځی، په هغه کی کـه چيری دکجاوی څخه راکښته سی نـو دقـافلی څخـه دليـری کيـدلو پـه حالـت کـی دځـان خطـره ده نـو پـه کجـاوه کـی دمازيگرلمونځ کول څنگه دی؟

دقافلي حصاريدلو په وخت کـی پـه کجـاوه کـی دلمـونځ څـه حکـم دی ؟ سـوال: (١٣٨٩) دماښام په وخت کی قافله يوه شيبه دريږی ټول کسان پرمزکـه بانـدی لمـونځ کـوی، خـو بعضی حاجيان دکجاوی څخه راکښته سی استنجاء اواودس وکړی او بيا ولاړ سی پـه کجاوه کی لمونځ کوی، داجائز دی او که نه؟

دشپي په وخت کی په کجاوه کـی لمـونځ درسـت دی اوکـه نـه؟ سـوال: (١٣٩٠) دماخستن لمونځ خو شوافع دماښام په وخت کی اداء کوی. دا وخت ډير خو فناك وی.

دسهار لمونځ په کجاوه کی کيری که نه ؟ سوال: (١٣٩١) دسهار په وخت کی هم دمـازيگر په شان بعضی ملگری داوښانو څخه کښته سی او لمونځ اداء کوی او اکثر په کجاوه کی کوی.

دماخستن لمونځ دعذر په وجهی سره ناوخته کول څنگه دی؟ سوال: (١٣٩٢) (پـه سـفر کـی) پر بعضو منزلو باندی په نيمه شپه کی دصبح صادق راختلو څخه مخکی قيـام وسـی. پـه دې صورت کی بعضی خلق خـو پـه ماسـخوتن کـی تـاخير وکـی، منـزل تـه درسـيدلو څخـه وروسته لمونځ وکی او زيـات خلق پرخپـل وخت بانـدی پـه کجـاوه کـی لمـونځ کـوی، نـو اصل حکم څه دی؟

---

(١) بخلاف فتحه علی امامه فانه لا يفسد مطلقا لفاتح واٰخذ بکل حال (الدرالمختار باب مايفسد الصلاۃ وما يکره فيها ج١ص ٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٢٢٢) دغه ډول وگوری عالمگيری کشوری ج١ ص٩٨. ظفير

جواب: (١) دذکر سوی عذر په وجه په کجاوه کی لمونځ صحیح دی. (١)
(٢) په دی وخت کی په کجاوه کی لمونځ صحیح نه دی.
(٣) په دی وخت کی هم په کجاوه کی لمونځ صحیح دی.
(۴) ددی حکم هم داولنی جواب په شان دی.
(۵) کم خلق چی دمنزل دانتظار څخه بغیر په کجاوه کی لمونځ کوی دهغوی لمونځ هم صحیح دی ..... کذا حققه فی الشامی. فقط
(لیکن اوس نه دکجاوې مصیبت سته اونه لاره خطرناکه اوخوفناکه ده. اوس دبَس په ذریعه حاجیان ځی راځی او دلمونځ په وخت کی ټول په کښته کیدلو سره په جَمع سره لمونځ اداء کولی سی. په کجاوه کی به فرض لمونځ درست نه وی. ځکه چی عُذر باقی نه دی پاته. ظفیر)

<u>چی ښځه دسړیو په خوا کی ودریږی نو څه حکم دی؟</u> سوال: (۱۳۹۳) یوه ښځه ماپښین او مازدیګر اونورو پنځه وخته لمونځونو کی راسی اوپه جَمع کی دسړو سره برابره ودریږی نو دسړیو لمونځونه وسوه او که نه؟

جواب: په داسی صورت کی چی کم بالغ سړی ددغه ښځی سره برابردی، دهغه لمونځ نه کیږی. کذا فی الدرالمختار: واذا حاذته ولو بِعُضو واحد الخ امرأة مشتهاة الخ فسدت صلٰوته لو مکلفا. (٢)

<u>چی قرآن ته ګوری او لمونځ کوی نو څه حکم دی؟</u> سوال: (۱۳۹۴) دتراویحو په لمونځ کی یوسړی دامام څخه وروسته قرآن شریف خلاص کړی دی او ناست دی او نژدې بل مقتدي دی چي قرآن مجید ته ګوری، مخکنی سړی په مطالعه کی مدد ورسره کوی او امام ته فتح ورکوی، اوقرآن مجید ښوونکی دجَمع په یوه رکعت کی نه شریکیږی. کله چی امام په دویم رکعت کی رکوع کوی نو هغه ورسره شریك سی او یو رکعت یوازي اداء کوی. په دی طریقی سره خو لمونځ نه فاسدیږی ؟

جواب: په در المختار کی دی: وقراءتُهُ مِنْ مُصْحَفٍ، اوفاسدَوی لمونځ، لوستل دلمونځ ګزار قرآن شریف ته په کتلو سره. نودا صورت کم چی په سوال کی درج دی په دی کی هم

---

(١) واعلم ان ماعدا النفل من الفرض والواجب بانواعه لا یصح علی الدابة الاّ للضَرورة کخوف لصّ علی نفسه او دابته او ثیابه لو نزل وخوف سَبع وطین ونحوه ممّا یاتی والصلاة علی المحمل الذی علی الدابة کالصلاة علیها فیؤمی علیها (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب الصلاة علی الدابة ج١ ص۲۵۵ ، ط. س. ج٢ ص۴٠) اوس په حجاز کی دا ډول خطره باقی نه ده پاته اونه پرکجاوه باندی دسفر رواج سته . ظفیر
(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج١ص ۵۳۴ – ۵۳۵ ، ط. س. ج١ ۵۷۲ – ۵۷۵ . ظفیر

دلمونځ دفساد اندیښنه ده، لهٰذا داسی دی نه کوی. [1]

دآخری قعدی څخه وروسته په: السلام علیکم ویلو سره فتح ورکول څنګه دی؟ **سوال**: (**١٣٩٥**) امام په څلور رکعتی لمونځ کی په آخری قعده کی سلام ونه ګرځوی او قیام ته ولاړ سو، زید امام ته السّلام علیکم وویل. په دی صورت کی دزید لمونځ قائم پاته سو او که نه ؟

په دویم رکعت کی چی آخری قعده وګڼی او فتح ورکړی نو څه حکم دی؟ **سوال**: (١٣٩٦) امام دری۳ رکعتو والا لمونځ ورکوی، زید ته ۲ ددویم رکعت په قعده کی خیال ورغی چی داګواکی دریم ۳ رکعت دی اوامام یې په اَلسّلام علیکم یا فقط په اَلسَّلام ویلو سره کښینول وغوښتل، په دی صورت کی دزید لمونځ قائم پاته سو اوکه نه؟

جواب: (۲\۱۱) په دواړو صورتونو کی دزید په لمونځ کی څه خلل رانغی. ولی چی دهغه غرض امام ته دتلقین دپاره اَلسَّلام علیکم ویل وو. یعنی داچی دسلام ګرځولو وخت دی. اوپه آخره کی دکښیناستلو وخت دی. نو اګرچی په داسی موقع باندی زید لره سبحان [2] الله ویل پکار وو لیکن د: اَلسَّلام الخ لفظ په ویلو سره هم په لمونځ کی څه فساد او خلل رانغی.

په اسویلی کی په چیغی وهلو سره لمونځ فاسدیږی اوکه نه؟ **سوال**: (١٣٩٧) کم سړی چی اَسویلی دومره په زوره وکړی چی دهغه آواز دجومات څخه دباندي ولاړ سی نو دهغه لمونځ به وسی اوکه نه؟ اوکه دغه سړی دسخت درد په وجه چیغه ووهله نوڅه حکم دی؟

جواب: په اسویلی کی دآواز وتلو سره سره لمونځ کیږی. اوپه آواز سره ژړل ددرد او مصیبت په وجهی سره او چیغه وهل ددرد په وجهی سره لمونځ ماتوی. کذا فی الدر المختار. [3]

پردوه ۳ چَتیز کور باندی لمونځ درست دی: **سوال**: (١٣٩٨) پردوه ۲ چتیز کور باندی لمونځ کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: جائز دی. [4] فقط

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها ج۱ ص۵۸۳، ط.س. ج۱ ص۶۲۳. ظ

(۲) قال رسول الله ﷺ من نابه شيء في صلوته فليسبح فانه اذا سبح التفت اليه وانما التصفيق للنساء(نصب الرايه ج۲ ص۷۲). ظفیر

(۳) والبکاء بصوت یحصل به حروف لوجع او مصیبة قید للاربعة الاّ لمریض لایملك نفسه عن انین وتأوه لانه حینئذ کعطاس وسُعال وجُشاء وتثاؤب وان حصل حروف للضرورة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ما یفسد الصلاة ومایکره فیها ج۱ ص۵۷۹، ط. س. ج۱ ص۶۱۹). ظفیر

(۴) ځکه چی دا دمزکي په حکم کی دی، دمحمل په اړوند فقهاء لیکی: لا تجوز الصلوة علیها اذا کانت واقفة =

که امام په سجده کی وفات سی نو مقتدیان څه وکړي؟ سوال: (١٣٩٩) که چیری امام په سجده کی وفات سی نو مقتدیان به لمونځ څرنګه پوره کوی ؟

جواب: دغه لمونځ فاسد (١) سو، بیا دی یوبل څوك امام جوړ کړي او دنوی سره دی لمونځ وکړي. فقط

پراوښ باندی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال: (١۴٠٠) دحجاز په سفر کی پر اوښ باندی په ناستی سره لمونځ کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دحجاز په سفر کی پراوښ باندی لمونځ درست نه دی (٢) لیکن دحرمینو شریفینو دحنفی عالمانو فتویٰ پردی ده چي هلته جمع بین الصلاتین صحیح ده ، دمثال په توګه دماښام په وخت کی قافله یو ځای دریږي. نو که چیری دماسخوتن په وخت کی بیا کښته کیدل ګران وی، نو دماښام په وخت کی دماښام دلمونځ څخه وروسته دماخستن لمونځ هم کولی سی. همدغه شان دماپښین او مازیګر لمونځونه هم یوځای کولی سی. (٣) فقط



الأ ان تکون عیدان المحمل الارض بان رکز تحته خشبة (در المختار) وهذا لو بحیث یبقی قرار المحمل علی الارض الخ فیصیر بمنزلة الارض فنصح الفریضه فیه قائما (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٧۵٢ ، ط. س. ج٢ ص۴٠). ظفیر

(١) واذا ظهر حدث امامه وکذاکل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة الموتم صحةً وفسادا (در المختار) واشار به الی حدیث الامام ضامن الخ (رد المحتار باب الامامة ج١ ص۵۵٣ ، ط. س. ج١ ص۵٩١) بقی من المفسدات ارتداد بقلبه وموت وجنون الخ وکل موجب لوضوء (در المختار) قوله وموت اقول تظهر ثمرته فی الامام لو مات بعد القعدة الاخیرة بطلت صلاة المقتدین به فیلزمهم استینافها (رد المحتار باب ما یفسد الصلاة الخ ج١ ص ۵٨٨ ، ط. س. ج١ ص٦٢٩). ظفیر

(٢) ویتنفل المقیم راکبا خارج المصر (رد المحتار) واحترز بالنفل عن الفرض والواجب بانواعه کالوتر والمنذور وما لزم بالشروع والافساد وصلاة الجنازة وسجدة تلیت علی الارض فلا یجوز علی الدابة بلا عذر لعدم الحرج (رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی الصلاة علی الدابة ج١ ص٧۵۴ ، ط. س. ج١ ص٣٨). ظفیر

(٣) ولا جمع بین فرضین فی وقت بعذر سفر ومطر خلافا للشافعی وما رواه محمول علی الجمع فعلا، لا وقتا فان جمع فسد لو قدم الفرض علی وقته وحرم لوعکس ای اخره عنه وان صح بطریق القضاء الأ لحاج بعرفة ومزدلفة کما سیجیئ ولا باس بالتقلید عند الضرورة بشرط ان یلتزم جمیع ما یوجبه ذالك الامام لما قدمنا ان الحکم المفلق باطل بالاجماع (در المختار) قوله عند الضرورة الخ المسافر اذا خاف اللصوص اوقطاع الطریق ولا ینتظر الوفقه جاز له تاخیر الصلوة لانه بعذر الخ لکن الظاهر انه اراد بالضرورة ما فیه نوع مشقة (ردالمحتار قبیل باب الاذان ج١ ص٣۵۴ – ٣۵۵ ، ط. س. ج١ ص ٣٨١ – ٣٨٢)، دافتویٰ په هغه زمانه کی وه کله چی په حجاز کی امن او امان باقی نه ؤ پاته، الحمد لله اوس داسي حالت نه دی، بلکه پوره امن اوامان دی، ځکه نودجمع بین الصّلٰوتین دافتویٰ هم باقی پاته نسوه، ماسِوا دعرفی او مزدلفی دځای څخه. والله اعلم، محمد ظفیرالدین غفرلهٗ

د: زلّة القاری مسائل

(یعني دقرائت کوونکی خطاوي او غلطۍ)

<u>چي دالَیْنَا پرځای عَلَیْنَا ووایي نو لمونځ به وسی، اوکه نه؟</u> سوال: (۱۴۰۱) یوسړی په لمانځه کی پرځای د (اِنَّ اِلَیْنَا اِیَابَهُمْ ثُمَّ اِنَّ عَلَیْنَا حِسَابَهُمْ) داسي وویل (اِنَّ عَلَیْنَا اِیَابَهُمْ ثُمَّ اِنَّ اِلَیْنَا حِسَابَهُمْ) نو لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په (اِنَّ اِلَیْنَا اِیَابَهُمْ) کي که چیري (اِنَّ عَلَیْنَا اِیَابَهُمْ) سهواً ووایي نو لمونځ یې وسو، ولی چی په دې سره په معنٰی کی څه فرق رانغی. فقط. (١)

<u>په قرآءت کی که چیري (مِنَ الظُّلُمَاتِ الی النُّوْرِ) په اړولو سره ووایي، نو لمونځ به وسی اوکه نه؟</u> سوال: (۱۴۰۲) یو سړی په لمونځ کی په دې آیت کریمه (اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِینَ آمَنُوا یُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَی النُّورِ وَالَّذِینَ کَفَرُوا أَوْلِیَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ یُخْرِجُونَهُمْ مِنَ النُّورِ اِلَی الظُّلُمَاتِ) کي سهواً اوپه غلطۍ سره دواړه ځایونه یعني د (مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَی النُّورِ) پرځای (مِنَ النُّورِ اِلَی الظُّلُمَاتِ) ووایی اود (مِنَ النُّورِ اِلَی الظُّلُمَاتِ) پرځای (مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَی النُّورِ) ووایي، په دې صورت کي لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کی لمونځ ونسو ولی چی دا غلطی معنٰی فاسدونکی ده. په دی وجه لمونځ نه صحیح کیږي. (٢) فقط

<u>که دواجب مقدار څخه وروسته یې آیت پریښودی، نو څه حکم دی؟</u> سوال: (۱۴۰۳) په لمونځ کی یې مسنون قراءت کړی وو، دهغه څخه وروسته یې یو کوچنی آیت سهواً په مینځ کی پریښووی، نو لمونځ وسو اوکه نه؟

<u>که یو لفظ پاته سي</u>: سوال: (۱۴۰۴) په (یَا آدَمُ اسْکُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ) کی چی سهواً (اَنْتَ) پاته سی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

<u>چي دزور زیر پیښ غلطي وسی نو څه حکم دی؟</u> سوال: (۱۴۰۵) (وَمَا ضَعُفُوْا) یې (وَمَا ضُعَفُوْا) ووایه، لمونځ وسو اوکه نه؟

---

(١) ومنها ذکر کلمة مکان کلمة علی وجه البدل ان کانت الکلمة التی قرأها مکان کلمة یقرب معناها وهی فی القرآن لا تفسد صلوته (عالمگیری مصری کتاب الصلوة الباب الرابع ج١ ص٧٤، ط. ماجدیه ج١ ص٨٠). ظفیر

(٢) وان کان فی القرآن ولکن لاتتقاربان فی المعنٰی نحو قرأ وعداً علینا اناکنا (غافلین) مکان (فاعلین) ونحوهما لو اعتقده یکفر تفسد عند عامة مشائخنا وهو الصحیح من مذهب ابی یوسف هٰکذا فی الخلاصة (عالمگیری مصری زلة القاری ج١ ص٧٥، ط. ماجدیه ج١ ص٨٠). ظفیر

جواب: (١) که چیری معنٰی متغیره نسی نو لمونځ وسو، اوکه معنٰی بدله سوه نو لمونځ ونسو. برابره خبره ده که دفرضو په اندازه یې قراءت ویلی وي اوکه یې نه وي ویلی. ([1]) فقط

(٢) لمونځ صحیح دی. ([2])

(٣) دا غلطی ده لیکن لمونځ وسو. ([3]) فقط

دثاء پر ځای په شین ویلو سره لمونځ کیري اوکه نه؟ سوال: (١٤٠٦) زید دجُمعی امام سو او په سور ت اعلٰی کی یې (فَجَعَلَهٗ غُثَآءً اَحْوٰی) لره (غُشَآءً اَحْوٰی) یعنی دث پرځای یې ش ولوستی، نو لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کی به لمونځ فاسد نه وی. کما فی الشامی. فی شرح قوله : او بدّله بآخر. فاذا لم یغیّر المعنی الخ لا تفسد. ([4]) فقط

چی دآیاته پرځای آیاتنا ووایی، نو څه حکم دی؟ سوال: (١٤٠٧) دحافظ صاحب څخه دجُمعی دلمونځ په مخکنی رکعت کی دا سهوه وسوه چی دسورتِ جُمعی ددویم ٢ رکعت دکلمی آیَاتِهٖ پرځای یې آیَاتِنَا ووایه په دې صورت کي لمونځ صحیح دی اوکه یې راګرځول واجب دی، او د: آیاتِهٖ او آیَاتنا په معنی کی څه فرق دی؟

جواب: په دی صورت کی لمونځ وسو، داعادی ضرورت نسته ، ولی چی اګر چی دآیاتهِ او آیاتنَا په معنٰی کی فرق سته لیکن پردی موقع باندی په دواړو ډولو مطلب صحیح دی ([5]) لکه څنګه چی داهل بلاغت په نزد دغائب څخه دتکلم طرف ته التفات کیدل یو خوبی اوحُسن ګڼل کیږی اوپه قران شریف کی هم په ډیروځایونوکی التفات راغلی دی. فقط

اَنَا دالف په اثبات سره ویل څنګه دی؟ سوال: (١٤٠٨) د اَنَا لفظ ضمیر دمتکلم کم چی دکلامِ پاك په رسمِ خط کی دالف په اثبات سره لیکل سوی دی خوپه تلفظ کي الف نه

([1]) ان الخطأ فی القرآن اما ان یکون فی الاعراب الخ اوفی الحروف الخ او زیادته او نقصه الخ او فی الکلمات اوفی الجمل کذلك الخ والقاعدة عندالمتقدمین ان ما غیر تغییراً یکون اعتقاده کفراً یفسد فی جمع ذالك (غنیة المستملی ص٤٤٢). ظفیر

([2]) قال فی شرح المنیة وان ترك کلمة من آیة فان لم یتغیر المعنٰی مثل جزاء سیئة مثلها بترك سیئة الثانیة لا تفسد (رد المحتار زلة القاری ج١ ص٥٩١ ، ط. س. ج١ ص٢٣٠). ظفیر

([3]) ومنها زلة القاری فلو فی اعراب او تخفیف الخ لم تفسد (درالمختار) فلو فی اعراب ککسر قواما وفتح باء نعبد مکان ضمها الخ وکذا فساد مطر المنذرین بکسر الذال وایاك نعبد بکسر الکاف (ردالمحتار ج١ ص٥٩٠ ، ط. س. ج١ ص ٢٣٠ – ٢٣١). ظفیر

([4]) رد المحتار باب مایفسد الصلوة الخ مطلب فی زلة القاری ج١ ص٥٩٢ ، ط. س. ج١ ص٢٣٣. ظفیر

([5]) ولو زاد کلمة او نقص حرفا او قدمه او بدله بآخر الخ لم تفسد ما لم یتغیر المعنٰی الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة الخ مطلب زلة القاری ج١ ص٥٩١ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢ – ٢٣٣). ظفیر

ويل کيږي ، که فرضاً په تلفظ کي هم الف ورسره وويل سی مثلاً (انّما اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُکُمْ) الآية ، نو په دې صورت کي دلمونځ څه حکم دی؟

جواب: اَنا دالف په اثبات سره په ويلو سره اگر چی لمونځ به وسی ليکن دا به لحن فی القراءت وی. ([1]) فقط

دزوَ زبر په غلطی سره لمونځ فاسديږی اوکه نه؟ سوال: (١۴٠٩) زيد په څلورمه پاره کی مُنْزِلِين د زاء په زور سره ووايه کم چی په څلورمه رکوع کی دی، نو لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کی لمونځ وسو. ([2]) فقط

چی امام دڅه ويلو څخه ورروسته بند سی بيا مخ ته ولاړسی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟ سوال: (١۴١٠) امام قراءت شروع کړی، او ديو دوه ٢ آيتونو ويلو څخه ورروسته بند سو او څه الفاظ يې پريښودل دمخ څخه يې ويل وکړل نو لمونځ به جائز وی اوکه نه؟

جواب: لمونځ جائز سو. ([3]) فقط

دامام په غلطی سره پرحافظ مقتدی باندی هيڅ اثر نه پريوزي: سوال: (١۴١١) که چيری دناظره خوان امام څخه غلطی وسی نو دحافظ مقتدی لمونځ کيږی اوکه نه؟

جواب: که چيری څه داسی غلطی يې نه وی کړی په کمی سره چی لمونځ فاسديږی نو لمونځ دحافظ هم وسو. فقط

چی آيت بدل ووايي نو څه حکم دی؟ سوال: (١۴١٢) که چيری يو سړی په لمونځ کی پر ځای د (بَلْ يُرِيدُ الْإِنْسَانُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ) داسي ووايي (بَلْ يُرِيدُ الْإِنْسَانُ أَلَّنْ نَجْمَعَ عِظَامَهُ) ، نو لمونځ يې صحيح دی اوکه نه؟

جواب: لمونځ به يې وسی. ([4]) فقط

([1]) ومنها القراءة بالحان ان غير المعنى والاّ لا، الاّ فی حروف مد ولين اذا افحش والاّ لا. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار، باب مايفسد الصلوة، مطلب مسائل زلة القاری ج١ ص٥٨٩ ، ط. س. ج١ ص٦٣٠). ظفير

([2]) ومنها زلة القاري فلو فی اعراب الخ لم تفسد وان غيّر المعنى به يفتی، بزازيه (در المختار) قوله: فلو فی اعراب الکسر قواما مکان فتحها وفتح باء نعبد مکان ضمها الخ (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة مطلب مسائل زلة القاری ج١ ص٥٨٩ – ٥٩٠ ، ط. س. ج١ ص ٦٣١ – ٦٣٢). ظفير

([3]) ولو زاد کلمة او نقص کلمة الخ لم تفسد ما لم يتغير المعنٰی (در المختار) قوله نقص کلمة ولم يمثل له الشارح قال فی شرح المنية وان ترک کلمة من آية فان لم يتغير المعنى مثل وجزاء سيئة سيئة مثلها بترک سيئة الثانية لا تفسد (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة مسائل زلة القاری ج١ ص٥٩١ ، ط. س. ج١ ص ٦٣٢ - ٦٣٣). ظفير

([4]) اوقدمه اوبدّله بآخر الخ لم تفسد مالم يتغيرالمعنی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج١ ص٥٩١ ، ط. س. ج١ ص٦٣٣). ظفير

سوال: **په** (قُلْ هُوَ اللّٰهُ) **کي يې** (اَللّٰهُ الصَّمَدُ) **پرېښووي نو لمونځ به يې صحيح وي اوکه نه؟**
(۱۴۱۳) امام (قُلْ هُوَ اللّٰهُ) وويل او (اَللّٰهُ الصَّمَدُ) يې پرېښووی او سجده سهو يې وکړه نو لمونځ وسو اوکه نه؟
جواب: لمونځ وسو. (١) فقط

سوال: **که دقرائت په مينځ کی يولفظ پاتي سی او معنٰی بدله نسی نو هيڅ کراهت نسته؟**
(۱۴۱۴) که چيری دامام څخه دقراءت په مينځ کی يوآيت پاته سی نولمونځ کيږی که نه؟
جواب: لمونځ بې له کراهته صحيح دی که معنی بدله سوی نه وي. (٢)

سوال: **تر درو آيتونو وروسته په لمونځ فاسدوونکي غلطي سره لمونځ فاسديږي اوکه نه؟**
(۱۴۱۵) که چيری امام تر درو يا ډيرو آيتونو ويلو وروسته لمونځ فاسدوونکي غټې غلطۍ وکړي نو لمونځ فاسديږي اوکه نه؟
جواب: لمونځ ماتوونکی غلطی چی په لمونځ کی هروخت وسی، نو لمونځ فاسديږی. (٣) البته که چيری غلطی بيا راوګرځوی او صحيح يې وو ايي ، نو لمونځ به وسی.

سوال: **که چيری په قرائت کی يو لفظ پاته سی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟** (۱۴۱۲) دجُمعی دلمونځ په دوهم ٢ رکعت کی يو سړی دا آيت (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلاَةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ) ترآخره پوری ولوستی دلفظ (نُوْدِيَ) څخه وروسته يې لِلصَّلٰوةِ ونه وايه چی دسلام څخه وروسته ورته وويل سوه نو جواب يې ورکړی چی آيت لوی وو ددی وجه مې څه پرينښووی نو لمونځ وسو اوکه نه؟
جواب: په دې صورت کی لمونځ وسو خو د (نُودِيَ) څخه وروسته قصداً دصلوة لفظ پرينښودل غلط دی اودا ددغه امام جهالت اوغلطی ده چی داسی بيکاره تاويل کوی. هغه ته صفا ويل پکار وو چی زما څخه سهوه سوی ده، او سهواً دا کلمه پاته سوی ده، خو لمونځ صحيح سو په وجه دمعنٰی دنه فاسديدلو. (٤) فقط

سوال: **که قاف يې په کاف سره بدل کړي نو آيا لمونځ فاسد سو؟** (۱۴۱۷) په سورة الطارق کی امام په : لَقَوْلٌ فَصْلٌ کی دقاف په ځای کاف ولوستی، او دا سړی پرصحيح ويلو باندی قادردی نو لمونځ فاسد سو اواعاده واجبه ده اوکه نه؟

(١) ولو زاد کلمة او نقص کلمة الخ لم تفسد ما لم يتغير المعنٰی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة مطلب فی زلة القاری ج١ ص٥٩١، ط. س. ج١ ص٢٣٢ – ٢٣٣). ظفير
(٢) ايضاً. ظفير
(٣) ان ماغير المعنٰی تغيرا يکون اعتقاده کفرا يفسدفی جميع ذالك الخ (رد المحتار زلة القاری ج١ ص٥٩٠). ظ
(٤) ولو زاد کلمة او نقص کلمة الخ لم يفسد ما لم يتغير المعنی. (ردالمحتار ج١ ص٥٩٣). ظفير

جواب: په داسی صورت کی ددغه لمونځ اعاده ضروری ده ولی چی دقدرت باوجود په داسی غلطی سره لمونځ نه کیږی. ([1]) فقط

پر: صِرَاطَ الَّذِيْنَ باندی په سکوت کولو سره لمونځ نه فاسدیږی: **سوال**: (١٤١٨) یوامام چی سورة فاتحه وایی نو پر صِراطَ الَّذِيْنَ باندی ودریږی، اوساه هم اخلی، نولمونځ کیږی او که نه؟

جواب: لمونځ کیږی خو دا لویه غلطی ده آئنده داسی کول نه دی پکار. ([2]) فقط

چی دکریم په ځای په قرائت کی عظیم ووایی، نو څه حکم دی؟ سوال: (١٤١٩) یوه ورځ ماپه لمانځه کی دسورت مومنون آخری آیتونه ولوستل اوپه ځای د: رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْم، می سهواً ربّ العرش العظیم ووایه نو لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی لمونځ وسو. ([3]) فقط

دمد پرځای زیر دزور پرځای په مد ویلو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال: (١٤٢٠) په قرائت کی دزوَر پرځای مد اودمد پرځای په زور ویلو سره او دجمع پرځای دواحد او دواحد پر ځای په جمع ویلو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: هغه موقع معلومیدل پکاردی په کم کی چی تغیّر سوی دی، دپاره ددی چی دهغه موافق دمطلب او معنٰی په کتلو سره حکم ولیکل سی. فقط

که دآیت څه حصه پاته سی او معنٰی بدله نسی، نو لمونځ جائز دی: **سوال**: (١٤٢١) امام صاحب په لمانځه کی سورتِ جمعه وایه په مینځ کی ورڅخه: بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِآيَاتِ اللهِ، سهواً پاته سو. زید وایی چی لمونځ ونسو عمر وایی چی لمونځ وسو، په دې کی دسجده سهوی ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی په لمانځه کی هیڅ نقص رانغی او سجده سهوه نه واجبیږی، ولی چی سجده سهوه په واجب پریښودلو سره لازمیږی، او دلته دفرضو اوواجبو په مقدار قرائت اداء سو، اوپه مینځ کی دقراءت په پاته کیدلو سره څه حرج ونسو. ([4]) فقط

([1]) قال فی الخانیة والخلاصة الاصل فیما اذا ذکر حرفا مکان حرف وغیر المعنی ان امکن الفصل بلا مشقه تفسد الخ وفی خزانة الاکمل قال القاضی ابو عاصم ان تعمد ذالك افسد وان جری علی لسانه اولا یعرف التمییز لا تفسد وهو المختار (رد المحتار باب ایضًا ج١ ص٥٩٢ ، ط. س. ج١ ص٢٣٣). ظفیر

([2]) پر: انعمت علیهم باندی ساه پرېښوول پکار دي. ظفیر

([3]) او قدمه او بدله بآخر الخ لم تفسد ان لم یتغیر المعنٰی (الدرالمختار علی هامش رد المحتار زلة القاری ج١ ص٥٩١ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفیر

([4]) ولو کلمة او نقص کلمة الخ لم تفسد مالم یتغیر المعنٰی (الدرمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة زلة القاری ج١ ص ٥٩١ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفیر

د: زِیْنَۃٌ تبدیلی په: فتْنَۃٌ سره اود: آذَانهمْ دا په: آثَارهمْ سره وسوه نو په دی صورت کی لمونځ وسو اوکه نه؟ **سوال:** (۱۴۲۲) که چیری چاپه لمانځه کی د (إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَهَا) پرځای (فِتْنَةً لَهَا) ووایه، نو دا فساد دمعنٰی به مُفسِد دصلوٰۃ وی اوکه نه؟

سوال: (۱۴۲۳) که چیری چا په لمانځه کی پرځای د (فَضَرَبْنَا عَلَى آذَانِهِمْ) (عَلَى آثَارِهِمْ) ووایه نو لمونځ وسو اوکه نه؟

سوال: (۱۴۲۴) که چیری یو سړی په لمانځه کی په آیت (أُولَئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ) کي (وَلِقَائِهِ) پریږدی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

جواب: په دی درو ۳ واړو صورتونو کی لمونځ درست او صحیح دی. (۱) فقط

دلفظ یا آیت په بدلیدلو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟ **سوال:** (۱۴۲۵) امام په سورتِ رعد کی په ځای د (وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ قُلْ إِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ أَنَابَ) پرځای څلورمه رکوع شروع کړه او (وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا) الٰی آخره یې ووایه حالانکه په سورت محمد (ﷺ) دریمه ۳ رکوع کی (وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ) الآیة هم موجود دی. نو په دې صورت کی به لمونځ وسی، اوکه نه؟

سوال: (۱۴۲۶) په سورت مریم کی اوله رکوع (يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ) الآیة د (وَكَانَ تَقِيًّا وَبَرًّا بِوَالِدَيْهِ) پرځای یې (بِوَالِدَتِي) ولوستی، نو دلمانځه څه حکم دی؟

جواب: په اول او دوهم دواړو صورتونو کي لمونځ وسو، اودا اَوْسَع (قول) دی. (۲) فقط

په سورت زلزال کی یوه حصه هیره سوه ، نو لمونځ وسو اوکه نه؟ **سوال:** (۱۴۲۷) یوسړی په لمانځه کی دفاتحی څخه وروسته اِذَا زُلْزِلَتِ سورت ولوستی، او اَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ورڅخه هیر سو، نو لمونځ وسو او که نه؟

جواب: او دآیت وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا په مینځ کی په پاته کیدلو سره په معنٰی کی هم څه تغیر نه راځی، لهٰذا دلمونځ په صحت کی څه شبه نسته. (۳)

چی دزوَر پرځای پیښ ووایی نو څه حکم یې دی؟ **سوال:** (۱۴۲۸) امام دجُمعی په لمونځ کی په آیت کریمه: تَصْلٰی نارًا حَامِيَةً کي پرځای دنصب په رفع سره ووایه یعنی پرځای د:

---

(۱) ولوزاد کلمة او نقص حرفا او قدمه او بدله بآخر الخ لم تفسد ما لم يتغير المعنٰی (الدرالمختار علی هامش رد المحتار، باب مايفسد الصلوة زلة القاری ج۱ ص۵۹۲ ، ط. س. ج۱ ص۶۳۲). ظفیر

(۲) ولو زاد کلمة اونقص کلمة او نقص حرفا او قدمه اوبدّله با خر الخ لم تفسد مالم يتغير المعنٰی (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب مايفسد الصلوة زلة القاری ج۱ ص۵۹۲ ، ط. س. ج۱ ص۶۳۲). ظفیر

(۳) ولو زاد کلمة او نقص الخ لم تفسد ما لم يتغير المعنٰی (ایضًا) ، ط. س. ج۱ ص۶۳۲. ظفیر

حَامِيَةً يې حامِيَةٌ ووايه نو لمونځ وسو اوکه نه ؟

جواب: په دې صورت کی لمونځ وسو ولی چی پردې موقع باندی په رفع سره په معنی کی تغير نه راځی او تاويل صحيح کيدلی سی. ګويا داسی وويل سوه: تَصْلٰی نَاراً هِیَ حَامِيَةٌ. (١) فقط

که دسورت يوه ټکړه دويلو څخه پاته سی نولمونځ به وسی اوکه نه؟ سوال: (١۴٢٩) دامام څخه په جهری لمونځ کی بَلٰی قَادِرِيْنَ عَلٰی اَنْ نُسَوِّیَ بَنَانَهٗ ويل هير سوه اوداول څخه تر آخره پوری ټول سورت يې ووايه نو په دی صورت کی لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی لمونځ وسو. (٢) فقط

چی په مينځ کی آيتونه پريږدی او مخ ته ولاړ سی نو څه حکم دی؟ سوال: (١۴٣٠) تر: والشمس وضحٰها پوری يې ووايه اوپه مينځ کی آيتو نه ورڅخه هير سوه او پاته سوه او د: وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰهَا څخه تر آخره پوری يې ووايه په دې صورت کي لمونځ وسو اوکه نه؟ او آيا دسجده سهوی ضرورت سته؟

چی دسورت العصر دويلو په وخت کی والتّين ته ولاړ سی، نو لمونځ به وسی اوکه نه؟ سوال: (١۴٣١) په سورت والعصر کی دآمَنُوْا وَعَملوا الصّلحٰت څخه سورت والتين ته ولاړی او فَلَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ويل يې شروع کړل اوتر آخره پوری يې سورت ولوستی. په دی صورت کی لمونځ وسو دسجده سهوی ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: (١) په دی صورت کی لمونځ وسو دسجده سهوی ضرورت نسته (٣).

(٢) په دی صورت که هم لمونځ وسو دسجده سهوی ضرورت نسته. (۴) فقط

که د: دهَاقًا پرځای دحَاقًا ووايي، نو څه حکم دی ؟ سوال: (١۴٣٢) که په لمانځه کي چا دخپل غلط خيال په باور باندی ددِهَاقًا پرځای دِحَاقًا ووايه نو لمونځ به وسی اوکه اعاده به يې واجبه وی؟

جواب: دد‌ِهَاقًا پرځای دِحَاقًا په حاء دحُطِّیْ سره ويل په ظاهره دقواعدو مطابق مُفسِد دصلوٰة دی ولی چی معنٰی ورسره بدليږی (۵) لهٰذا لمونځ به ونسی. فقط

---

(١) فلو فی اعراب او تخفيف الخ لم تفسد (ايضًا ج١ ص٥٩١ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفير

(٢) ولو زاد کلمة او نقص الخ لم تفسد ان لم يتغير المعنٰی (الدرالمختار علی هامش رد المحتار زلة القاری ج١ ص٥٩٢ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفير

(٣) ايضًا ، ط. س. ج١ ص٢٣٢. ظفير

(۴) ايضًا ، ط. س. ج١ ص٢٣٢. ظفير

(۵) ان ذکر حرفًا مکان حرف ولم يغير المعنٰی الخ لم تفسد صلوته وان غيّر المعنی فان امکن الفصل بين الحرفين من غير مشقّه کالطاء مع الصاد الخ تفسد صلوته عند الکل وان کان لا يمکن الفصل الاّ بمشقة کالظاء مع =

دآیت یوه حصه ئی بدله کړه نو لمونځ به فاسد سی اوکه نه؟ **سوال:** (۱۴۳۳) یوه امام دا آیت غلط ولوستی (اِنَّا اَرْسَلْنَا اِلَیْکُمْ رَسُوْلاً) الایة داسي چي (اَرْسَلْنَا اِلٰی فِرْعَوْنَ رَسُوْلاً) یې ووایه نو لمونځ فاسد سو اوکه نه ؟

جواب: په دې صورت کې لمونځ نه فاسدیږی ([1]). فقط

که دیکذبون پرځای یُمسِکونَ یاد یعملون پرځای تعقلون ووائی نو لمونځ به اوشی اوکه نه؟

سوال: (۱۴۳۴) امام په لمونځ کی پرځای دان یکذبون یمسکون وویل اوپه بل لمونځ کی یې پرځای دیعملون تعقلون وویل نوپه دواړو صوروتونو کی دلمونځ اعاده کول پکاردی او که نه؟

جواب: په اولني صورت کی دی دلمونځ اعاده وکړی اوپه دویم صورت کی لمونځ وسو. ([2]) فقط

که دډک توری پرځای باریک ووایی نولمونځ به وسي اوکه نه؟ **سوال:** (۱۴۳۵) په کومو ځایونو کی چی راء او لام ډك لوستل پکار دی هلته په باریك لوستلو سره په لمانځه کی دننه څه نقصان سته اوکه نه؟ اوکه وی نوڅومره به وی ؟

جواب: لمونځ صحیح دی په لمونځ کی هیڅ خلل رانغی ([3]). فقط

دعَلَیهِم لام ئی زیات راکش کـی نولمونځ وسو اوکه نه؟ **سوال:** (۱۴۳۶) پرلفظ د: عَلَیْهِم باندي دنهو یا لسو الفو هومره په کشولو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟

دغُنّي پرځای اظهار: **سوال:** (۱۴۳۷) کوم ځای چی میم اونون په غُنّی سره لوستل کیږی که په هغه ځای کی میم اونون په اظهار سره ووایی نولمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: (۱) داظاهره ده چی دتجوید دقاعدی مطابق په دی ځای کی مدنسته لهذا دا لحن دی او خطا ده خو لمونځ ورسره کیږی. ([4])

= الضاد والصاد مع السین والطاء مع التاء اختلف المشائخ قال اکثرهم لا تفسد صلاته هٰکذا فی فتاوی قاضی خان وکثیر من المشائخ افتوا به قال الامام ابوالحسن والقاضی الامام ابو عاصم ان تعمد .... فسدت وان جری علی لسانه او کان لا یعرف التمیز لا تفسد وهو اعدل الاقاویل والمختار، هٰکذا فی الوجیز للکردری (عالمگیری مصری زلة القاری ج۱ ص۷۴ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۷۹). ظفیر

[1] او قدمه اوبدله باٰخر الخ لم تفسد مالم یتغیر المعنیٰ (الدرالمختار زلة القاری ج۱ ص۵۹۲، ط. س. ج۱ ص۲۳۲). ظفیر

[2] لو زاد کلمة الخ اوبدله باٰخر الخ لم تفسد ما لم یتغیر المعنٰی (در المختار) وان غیر فسدت الخ (ردالمحتار زلة القاری ج۱ ص۵۹۲ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۲). ظفیر

[3] وفی التتارخانیة عن الحاوی حکی عن الصفار انه کان یقول الخطاء اذا دخل فی الحروف لا یفسد لان فیه بلوی عامة الناس لانهم لایقیمون الحروف الاّ بمشقة (ردالمحتار زلة القاری ج۱ص۵۹۲، ط.س. ج۱ص۲۳۳). ظ =

(٢). په دې صورت کې لمونځ صحيح دی. (١) فقط

د: نُرَدُّ پرځای يې لا نُرَدُّ ووايه نولمونځ فاسد سو اوکه نه؟ سوال: (١٤٣٨) دايت کريمه : يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ پرځای يې وَلَانُرَدُّ ووايه نو لمونځ فاسد سو اوکه نه؟

جواب: په داسې صورت کی اَخْوَطه (خبره) داده چې دلمونځ اعاده (٢) وکړی.

په : قَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ يا په يو بل داسې آيت کې داعراب غلطي: سوال: (١٤٣٩) په آيت کريمه: وَقَتَلَ دَاودُ جَالُوْتَ کی که چيری ددويم دال يې زوَر او دت يې پيښ ولوستی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟ لوستونکی به کافر سی او که نه ؟ همدغه شان په فَعَصٰی فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ کی که چيری دنون يې زوَر اودلام يې پيښ ووايه نو لمونځ به فاسد سی اوکه نه؟

جواب: په: وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوتَ کی که چيری ددويم دال يې زوَر اود ت يې پيښ ووايه نو لمونځ فاسديږي خو لوستونکی کافر کيږي نه، همدغه ډول په (فَعَصٰی فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ) کی يې که چيری دنون زوَر او دلام پيښ ولوستی نولمونځ به فاسد سی، (٣) اوکه صحيح يې کړی او بيا يې راوګرځوی، نو لمونځ به صحيح وی. فقط

چې دخَيْرٌ لَّکَ مِنَ الاولى پرځای والْاُولی ووايي، نو څه حکم دی؟ سوال: (١٤٤٠) امام په لمانځه کی دخيرُ لَّکَ مِنَ الْاُولی پرځای خيرٌ لَکَ وَالاُولٰی ووايه، نو لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کی لمونځ وسو ولی چې په معنٰی کی داسې تغير ونسو کم چې لمونځ ماتوونکی وی. اوس يې معنٰی داسوه چې يقينًا آخرت اودُنيا ستا دپاره دواړه بهتر دی لکه څنګه چې مفهوم دآيت: ربّنا آتنا فی الدنيا حسنة وفی الآخرة حسنةً دی. (٤)

---

(٤) (صفحه ٨٦) و(١) (صفحۂ هذا) وفی التتارخانية عن الحاوی حکی عن الصفار انه کان يقول الخطاء اذا دخل فی الحروف لا يفسد لان فيه بلوی عامة الناس لانهم لايقيمون الحروف الاّ بمشقة (ردالمحتار زلة القاری ج١ ص٥٩٢ ، ط.س. ج١ ص٢٣٣). ظفير

(٢) اعلم ان الكلمة الزائدة امّا ان تكون فی القرآن اولا، وعلی كل امّا ان تغيّر اولا، فان غيرت افسدت مطلقا الخ (رد المحتار زلة القاری ج١ ص٥٩١ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفير

(٣) إِذَا لَحَنَ فِي الْإِعْرَابِ لَحْنًا لَا يُغَيِّرُ الْمَعْنَى بِأَنْ قَرَأَ لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتُكُمْ بِرَفْعِ التَّاءِ لَا تَفْسُدُ صَلَاتُهُ بِالْإِجْمَاعِ وَإِنْ غَيَّرَ الْمَعْنَى تَغْيِيرًا فَاحِشًا كَأَنْ قَرَأَ وَعَصٰى آدَمَ رَبُّهُ بِنَصْبِ الْمِيمِ وَرَفْعِ الرَّبِّ وَمَا أَشْبَهَ ذٰلِكَ مِمَّا لَوْ تَعَمَّدَ بِهِ يَكْفُرُ ، إِذَا قَرَأَ خَطَأً فَسَدَتْ صَلَاتُهُ فِي قَوْلِ الْمُتَقَدِّمِينَ وَاخْتَلَفَ الْمُتَأَخِّرُونَ : قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ وَأَبُو نَصْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ سَلَّامٍ الخ لَا تَفْسُدُ صَلَاتُهُ ، وَمَا قَالَهُ الْمُتَقَدِّمُونَ أَحْوَطُ ؛ لِأَنَّهُ لَوْ تَعَمَّدَ يَكُونُ كُفْرًا وَمَا يَكُونُ كُفْرًا لَا يَكُونُ مِنْ الْقُرْآنِ وَمَا قَالَهُ الْمُتَأَخِّرُونَ أَوْسَعُ ؛ لِأَنَّ النَّاسَ لَا يُمَيِّزُونَ بَيْنَ إِعْرَابٍ وَإِعْرَابٍ الخ وَهُوَ الْأَشْبَهُ ، كَذَا فِي الْمُحِيطِ وَبِهِ يُفْتٰى كَذَا فِي الْعَتَّابِيَّةِ وَهٰكَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ . (عالمگيري مصري زلة القاري ج١ ص٧٢ ، ط. ماجديه ج١ ص٨١) مفتي علام رحمه الله پر احوط باندي فتوٰی ورکړيده. ظفير

(٤) اوبدله باٰخر لم تفسد مالم يتغير المعنٰی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار زلة القاری ج١ ص٥٩٢ ، =

دلَفِيْ پرځای دلاَ فِي په ويلوکي څه حرج خو نسته؟ سوال: (۱۴۴۱) په سورت العصر کي دلَفِي خُسْرٍ پرځای دلاَ فی خُسْرٍ په ويلو سره لمونځ کيږی اوکه نه؟ يعنی پرځای دپروت زورَ ولاړ زوَر يا په الف ويلو سره لمونځ کيږی اوکه نه؟

جواب: په داسی غلطی سره لمونځ نه کيږی په دی کی احتياط کول پکار دی، (۱) او صحيح ويونکی امام جوړول پکاردی. فقط

دذال پرځای په جيم ويلو سره لمونځ کيږي اوکه نه؟ سوال: (۱۴۴۲) امام په لمانځه کی دذال پرځای جيم ولوستی نو لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: دغه مثال ليکل پکار وو، کم ځای چی امام دذال پرځای جيم ويلی دی، دپاره ددی چی دمعنٰی دتغيّر او تبّدل حال معلوم سوی وای، چی دکمی درجی تغير سوی دی. خو ظاهره داده، چی په دې صورت کی دلمونځ اعاده اَحْوَطه ده او همدا حکم دطاء پرځای دتاء ويلو (۲) دی. فقط

دضاد پرځای ذال يا د زاء پرځای په ظاء ويلو سره لمونځ فاسديږي اوکه نه؟ سوال: (۱۴۴۳) که چيری يو کَس دض پرځای ذ يا ز يا ظ ووايي نو لمونځ به يې صحيح وی اوکه فاسد؟ اوکه په لمانځه کی دفرض قراءت ويلو څخه وروسته لمونځ ماتوونکی غلطی وکړی، نو لمونځ يې صحيح سو اوکه فاسد سو؟

جواب: لفظ د ض معجمه دخپل اصلی مخرج څخه ويل پکاردی نه د: ذ ، ظ يا ز دمخرج څخه ، ځکه چی عمداً داټول ناجائز دی بلکه په شرح فقه اکبرکی ئی دمحيط څخه راوړی دی چی که چيری څوك قصداً دض معجمه پرځای ظاء معجمه ووايې نوکافر کيږی (۳) العياذبالله تعالٰی اولمونځ به ئی فاسد سی. اوکه چيری څوك په لمانځه کی دفرض قرائت

= ط. س. ج۱ ص۲۳۳). ظفير

(۱) ومنها زيادة حرف ان زاد حرفا فان کان لايغير المعنی لا تفسد صلوته عند عامة المشائخ الخ وان غيّر المعنٰی الخ تفسد هکذا فی الخلاصة (عالمگيری کشوری زلة القاری ج۱ ص۷۸ ، ط. ماجديه ج۱ ص۷۹). ظفير

(۲) ان ذکر حرفا مکان حرف ولم يغير المعنی الخ لم تفسد صلاته وان غير المعنی فان امکن الفصل بين الحرفين من غير مشقة کالطاء مع الصاد الخ تفسد صلاته عند الکل وان کان لا يمکن الفصل الأ بمشقة کالظاء مع الضاد والصاد مع السين والطاء مع التاء اختلف المشائخ قال اکثرهم لاتفسد صلاته الخ قال الامام ابوالحسن والقاضی الامام ابو عاصم ان تعمد فسدت وان جری علی لسانه اوکان لا يعرف التمييز لا تفسد وهو اعدل الاقاويل والمختار هکذا فی الوجيز للکردری (عالمگيری مصری زلة القاری ج۱ص۷۴، ماجديه ج۱ ص۷۹). ظ

(۳) وفی المحيط سئل الامام الفضلی عمن يقرء الظاء المعجمة مکان الضاد المعجمة اويقرأ اصحاب الجنة مکان اصحاب النار اوعلی العکس فقال لا يجوز امامته ولو تعمد يکفر قلت اما کون تعمده کفر فلا کلام فيه اذا لم يکن فيه لغتان (شرح فقه اکبر ص ۲۰۵). ظفير

څخه وروسته په قرائت کی لمونځ ماتونکی غلطی وکړی نولمونځ به ئی فاسد سی بیاکه چیری اعاده صحیح وکړی نولمونځ به ئی صحیح سی کنې فاسد به سی په عالمگیریه کی ئی راوړی دی: لو قرأ فی الصلاۃ بخطاء فاحش ثم رجع وقرأ صحیحًا قال فی الفوائد عندی صلوٰته جائزۃ وکذالك الاعراب (١). فقط

دغلط لوستلو اثر پرلمونځ باندي: **سوال**: (١۴٢۴) امام دسورت توبی په آیت کی دعَزِیزٌ پر ځای (ما) د (علیه) سره یوځای کوی اوقصداً وقف کوی نولمونځ به وسي اوکه نه؟

چی اَسْفَلَ سَافِلِینَ الاَ الَذِینَ سره یوځای کړی نوځه حکم دی؟ **سوال**: (١۴٢۵) په سورۃ والتین کی داسفل سافلین سره الا الذین الایة په یو ځای لوستلو سره به لمونځ وسي اوکه نه؟

جواب: متاخرینو فقهاؤ په دی باب کی توسیع کړی ده چی دهغه حاصل دادی چی په دا قسم تغیراتو سره لمونځ نه فاسدیږی ترڅو پوری چی داسی تغیر ونسی چی معنٰی بالکل فاسده سی نو دلمونځ دصحت حکم باقی وی. ولو زاد کلمة او نقص کلمة او نقص حرفًا او قدمه اوبدّله بآخر لم تفسد ما لم یتغیر المعنٰی (٢) الخ لیکن کم امام چی اکثره داسی غلطیانی کوي هغه دامامت وړ نه دی، دهغه پرځای دی بل امام وټاکل سی. فقط

دسندرو په ډول سره قرآن ویل څنګه دي ؟ **سوال**: (١۴۴٦) په راګ (یعنی دسندرو په طرز) کی قرآن شریف ویل څنګه دی. آیا خوش آوازی په راګ کی داخله ده. په راګ اوخوش آوازی کی څه فرق دی؟

جواب: دسندرو په طرز کی قرآن ویل ناروا دی. وعن حذیفة قال قال رسول الله ﷺ اقرأوا القران بلحون العرب واصواتها وایاکم ولحون اهل العشق ولحون اهل الکتابین وسیجیئ بعدی اقوام یرجعون بالقرآن ترجیع الغناء والنوح لایجاوز حناجرهم مفتونة قلوبهم قلوب الذین یعجبهم شانهم رواه الیهقی فی شعب الایمان. (٣) اوپه غِنا کی ترجیع یعني دآواز اړول او را اړول کیږی لکه: آآآآ الخ په خلاف دخوش آوازی چی په دی کی مد وغیره دتجوید دقواعدو مطابق کیږی اوخوش الحانی په راګ کی داخله نه ده.

په (فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّه) **کی چی کان پاته سی نو څه وکړی؟** **سوال**: (١۴۴٧) امام دجُمعی

(١) عالمگیری کشوری باب صفة الصلوۃ فصل رابع زلة القاری ج١ ص٨١ ، ط. ماجدیه ج١ ص٨٢. ظفیر
(٢) الدر المختار علی هامش رد المحتار . باب مایفسد الصلوۃ وما یکره فیها، مطلب زلة القاری ج١ ص٥٩٢ ، ط. س. ج١ ص٦٣٢. ظفیر
(٣) مشکوٰۃ . کتاب فضائل القرآن . فصل ثالث صحیح ص ١٩١. ظفیر

په لمونځ کی په ﴿فَمَنْ کَانَ یَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّه﴾ کی لفظ دکَانَ سهواً پرېښووی نو لمونځ صحیح سو اوکه نه؟ اوکه اعاده ضروری ده؟ داعاده نه کولو په وجه سره چی کم سړی پر امام طعن کوی دهغه دپاره څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی لمونځ صحیح سو، نوکم سړی چی دناواقفتیا په وجهی سره دلمونځ اعاده ضروری ګڼی هغه دی پوه کړی سی چی مسئله داسی ده. (١) فقط

دفَالْمُلْقِیَات ذِکْراً پرځای چی فَالْمُدَبِّرَات اَمْراً ووایی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟ سوال: (١۴۴٨) زید په لمانځه کي سورة والمرسلات شروع کړی، خو پرځای د ﴿فَالْـمُلْقِیَات ذِکْرًا﴾ یې ﴿فَالْـمُدَبِّرَات اَمْرًا﴾ کم چي په والنّزعٰت سورة کی دی ولوستی، لمونځ یې صحیح سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی لمونځ وسو. (٢) فقط

د: وَلاَ اَنْتُمْ عَابِدُوْنَ پرځای چی وَلاَ اَنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ووایی، نو څه حکم دی؟ سوال: (١۴۴٩) زید دماښام په فرضو کی په سورت قل یا ایها الکافرون کی لا اعبدُ ماتعبدون، په: ولا انتم تعبدون ما اَعبُد، سره ولوستی او اولنی رکعت یې وکړی او په دویم رکعت کی یې اذا جاء ولوستی آیا لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: لمونځ وسو، ولی چی معنی صحیح ده. (٣) فقط

دیارلسو آیتونو دلوستلو څخه وروسته دمتشابه لګیدلو په وجهی سره که یولفظ پاته سو نو لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال: (١۴٥٠) که امام دلمونځ په قرائت کی ددیارلسو ١٣ ایتونو ویلو څخه وروسته متشابه آیت ووایه یایو لفظ په مینځ کی پاته سو، اودسجده سهوی څخه بغیر یی لمونځ ختم کړی نو لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: لمونځ صحیح سو (۴). فقط

---

(١) ولو زاد کلمة الخ لم تفسد ان لم یتغیر المعنی (در المختار) قال فی شرح المنیة وان ترك کلمة من اية فان لم تغیر المعنٰی مثل وجزاء سیئه مثلها بترك سیئه الثانیة لا تفسد وان غیرت مثل فما لهم یؤمنون بترك لا، فانه یفسد عند العامة وقیل لا والصحیح الأول (رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب زلة القاری ج١ ص٥٩١ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفیر

(٢) ومنها ذکر کلمة علی وجه البدل ان کانت الکلمة التی قرأها مکان کلمتی یقرب معناها وهی فی القرآن لا تفسد صلوته نحو ان قرأ مکان العلیم الحکم (عالمگیری کشوری فصل خامس زلة القاری ج١ ص٧٨ ، ط. ماجدیه ج١ ص٧٩). ظفیر

(٣) ایضاً . ظفیر

(۴) ومنها ذکر اٰیة مکان آیة لوذکر ایة مکان ایة الخ لاتفسد (عالمگیری کشوری ج١ ص٧٩، ط. ماجدیه ج١ ص٨٠). ظفیر

الف مقصوره او ممدوده په نون غني سره په ويلو سره لمونځ کيږي اوکه نه؟ سوال: (۱۴۵۱) که چيری قاري حافظ په لمانځه کی الف مقصوره او الف ممدوده په نون سره ووايي نو په لمونځ کي څه قصور سته اوکه صحيح دی. مثلاً موسٰی ته موسان وايی او صحریٰ ته صحران، اوبُشریٰ ته بُشران، علی هٰذا القياس. اوکله چی هغه ته وويل سی (چی داغلطی مه کوه) نو غصه سی ووايي چی زه داسی نه وايم، حالانکه حافظانو هم واوريدل، هغوی هم شکايت کوی.

جواب: لمونځ صحيح سو ليکن امام لره داسی غلطی کول نه دی پکار، په داسی ويلو سره په غلطوالی کی هيڅ کلام نسته، دا بالکل لحن دی، ليکن دمخکنيو لمونځونو اعاده لازمه نه ده، آينده احتياط ضرور دی که چيری امام دغه نه پريږدی نو بل امام صحيح ويونکی دی مقرر کړی سی. (۱) فقط

چی دضاد پرځای ظاء ووايي نو لمونځ کيږی او که نه ؟ سوال: (۱۴۵۲) کم سړی چی په لمانځه کی ضاد دځپل مخرج څخه داداء کولو قصد وکړي خو دادا کولو په وخت کی سهواً يا په خطاء سره ژبه يې ضاد په ظاء ووايه، نو دده لمونځ صحيح دی اوکه نه؟ اوکم سړی چی قصداً دضاد پرځای ظاء يا زاء وايی دهغه لمونځ کيږی اوکه نه؟

جواب: که چيری په خطاء سره ضاد معجمه پرځای دظاء معجمه وويل سو نو داکثرو په قول لمونځ صحيح دی ليکن که چيری قصداً ضاد پرځای دظاء يازاء وويل سي نو قاضی ابو عاصم رحمه الله فرمايی چی لمونځ دهغه فاسد دی. اوهمدی ته يې مختار ويلی دی او په بزازيه کی يې هم دی ته مختار او اَعْدَلُ الاقوال ويلی دی. په شامی کی دی: قال فی الخانية والخلاصة فيما ذكر بشقة كالظاء مع الضاد المعجمتين والصاد مع السين المهملتين والطاء مع التاء قال اكثرهم لا تفسد اهـ وفی خزانة الاكمل قال القاضی ابو العاصم ان تعمد ذالك تفسد وان جرى على لسانه اولا يعرف التمييز لاتفسد وهو المختار، حليه، وفی البزازيه وهو اعدل الاقاويل وهو المختار وفی التتارخانيه عن الحاوی حكی عن الصفار انه كان يقول الخطاء اذا دخل فی الحروف لا يفسد لان فيه بلوی عامة الناس (۲) آهـ ص ۴۲۵ شامی جلد ۱ . فقط

دشين پرځای په سين لوستلو سره لمونځ کيږی اوکه نه؟ سوال: (۱۴۵۳) داسی سړی امام

---

(۱) ومنها القرائة بالالحان ان غير المعنى والاّ لا، الاّ فی حرف مد ولين اذا فحش والاّ لا. (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب مايفسد الصلوة ج۱ ص۵۸۹ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۰). ظفير

(۲) ردالمحتار مطلب زلة القاری باب مايفسد الصلوة ج۱ ص۵۹۲ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۳. ظفير

جوړول څنګه دی څوك چی دشین پرځای سین وایی، اوکم لمونځونه چی په دی غلطیانو سره ادا سوی دی هغه وسوه او که نه؟

جواب: امام داسی سړی جوړول پکاردی څوك چی قرآن شریف صحیح وایی، هغه سړی امام مه جوړوی څوك چی ذکر سوی غلطیانی کوی، کم لمونځونه چی په دغه غلطیانو سره کړی سوی دی هغه وسوه، ([1]) خو آینده دغه سړی امام مه جوړوی ترڅو پوری چی هغه قرآن شریف صحیح اداء نه کړی.

په قرآئت کی په غلطی سره لمونځ کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۵۴) یو امام د: آمن الرسول بما انزل الیه من ربه والمؤمنون، پرځای من قبله والمؤمنون ووایه، لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: کم صورت دسوال چی تاسو لیکلی دی په هغه کی لمونځ ([2]) وسو. فقط

ایا په سورت فاتحه کی په وقف او عدم وقف سره دشیطان نوم جوړیږی؟ **سوال**: (۱۴۵۵) زید وایی چی دٱلْحَمْدُ پردال باندی په وقف نه کولو سره دُلِل معلومیږی او دُلِلْ دشیطان نوم دی. علٰی هٰذا دایَّاكَ پرکاف باندی وقف کول پکاردی ولی چی په وقف نه کولو سره کَنَهْ معلومیږی او دا نوم دشیطان دی. داقول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دزید دا قول غلط دی. فقط

دسَمِعَ اللّٰه لمَنْ حمده ادا والی: **سوال**: (۱۴۵۶) یو سړی سمع الله لمن حمده په دا شان وایی، چی هُوْ لِیْمَنْ اوریدل کیږی، آیا دا صحیح دی که غلط؟

جواب: ددغه سړی دغه شان ویل دقرآئت په اعتبار سره غلط دی صحیح نه دی. دقرآئت په قاعده کی دادی چی په ضمه او کسره کی دی صرف بوی دواو اویاء راسی نه داچی صریح واو اویاء یعنی هُوْ لِیْمَنْ وویل سی. دا بالکل غلط دی، پکارده چی دغه امام دی سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَہٗ ووایی او دداسی قراءت څخه دی خلګ خلاص کړی. فقط

لمونځ ماتونکی غلطیانی: **سوال**: (۱۴۵۷) یوامام قرآن شریف غلط وایی، غلطیانی دادی: په الحَمْدُ لله کی اَلْ داسی وایی چه دلام زیر معلومیږی. دنَعْبُدُ ددال زورَ وایی. دمُسْتَقِیْم قاف په کاف وایی الخ په دی غلطیا نو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟

ترتیل: **سوال**: (۱۴۵۸) ترتیل ضروری دی اوکه نه؟ اوشد او مَدّ ضروری دی اوکه څنګه؟

([1]) په ردالمحتارکی دی: ان کان الخطاء بابدال حرف بحرف فان امکن الفصل بینهما بلا کلفة کالصاد مع الظاء .... فاتفقوا علی انه مفسد وان لم یمکن الا بمشقة کالظاء مع الضاد والصاد مع السین فاکثرهم علی عدم الفساد لعموم البلوی وبعضهم یعتبر عسر الفصل بین الحرفین وعدمه وبعضهم قرب المخرج وعدمه (ج۱ ص۲۵۹ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۳). ظفیر

([2]) ومنها ذکر کلمة مکان کلمة علی وجه البدل ان کانت الکلمة التی قرأها مکان کلمة یقرب معناها وهی فرأ القرآن لا تفسد صلوته (عالمگیری کشوری ج۱ ص۷۸ . ط. ماجدیه ج۱ ص۷۹). ظفیر

جواب: (۱) په داسې غلطیانو سره دکمو چه په سوال کې ذکر دي لمونځ په هغه پسې نه کیږي اعاده کول يې پکار دي. ([1])
(۲) دومره ترتیل چه حروف ورسره صحیح سي فرض دي په شد اومدّ کې بعضې ضروري دي او بعضې ډیر ضروري نه دي. ([2])

لا اَعۡبُدُ يې دلام په حذف سره ووايه نولمونځ وسو اوکه نه؟ سوال: (۱۴۵۹) په سورت کافرون کې ددويم آيت په شروع کې چه کم لاَ اَعۡبُدُ دي اودمیم سره مَا تَعۡبُدُوۡنَ دي. که چیري دلا الف او دما الف وغورځول سي او صرف په زور سره دواړه وويل سي نو لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: لمونځ ونسو، ټولو لره يې راګرځول پکاردي. ([3]) فقط

چه دزیر پرځای زوَر ووايي نو لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال: (۱۴۲۰) په یوکتاب کې يې لیکلي دي چه که چیري لمونځ ګزار په لمانځه کې دزیر پرځای زوَر یابر عکس ووايي نو کافر کیږي، داصحیح دي، اوکه څنګه؟

جواب: کافر کیږي نَه، خو لمونځ فاسد یږي. ([4]) فقط

چه دوه ۲ آیته ووايي نو لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال: (۱۴۲۱) په لمانځه کې يې والشّمۡسِ شروع کې اوپه مینځ کې يې دوه ۲ آیتونه والشمس وضحٰها، واللیلِ اذا یَغشٰها ولوستل نو لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: لمونځ وسو. ([5])

په قرآئة کې دیوه سورت دیوې حصې ویلو څخه وروسته په هیره سره بل سورت ته ولاړی:

سوال: (۱۴۲۲) عمر په اولني رکعت کې دفاتحې څخه وروسته دا آیت ووایه د (للهِ مَا فِي

([1]) ولا غیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح کما فی البحر عن المجتبٰی الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۱ص۵۴۴ ، ط. س. ج۱ ص۵۸۱) قوله: غیر الالثغ به قال فی المغرب هو الذی یتحول لسانه من السین الی الثاء وقیل من الراء الی الغین او اللام او الیاء زاد فی القاموس اومن حرف الی حرف (رد المحتار ج۱ ص۵۴۴ ، ط. س. ج۱ ص۵۸۱). ظفیر

([2]) ورتل القران ترتیلا (سوره مزمل : ۴). ظفیر

([3]) ومنها حذف حرف الی قوله : ان لم یکن علی وجه الایجاز والترخیم ان غیر المعنی تفسد صلوته عند عامة المشائخ (عالمگیری کشوری ج۱ ص۷۸ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۷۹). ظفیر

([4]) ان الخطاء اما فی الاعراب ای الحرکات والسکون (الی قوله) ان غیر المعنی تغیرا یکون اعتقاده کفر یفسد فی جمیع ذالك سواء کان فی القرآن اولاً الخ (رد المحتار ج۱ ص۵۹۰). ظفیر

([5]) ومن فرائضها التی لا تصح بدونها (الی قوله) ومنها القرآئة لقادر علیها (در المختار) قوله: ومنها القراءة ای آیة من القرآن وهی فرض عملی فی جمیع رکعات النفل والوتر وفی رکعتین من الفرض (رد المحتار ج۱ ص۴۱۵ ، ط. س. ج۱ ص ۴۴۲ – ۴۴۲). ظفیر

السّمٰوٰت وما فی الارض الملك القدوس العزیز الحکیم) څخه تر (لا یَهْدِی القومَ الظّٰلمین) پوری. دهغه څخه وروسته راوګرځیدی او دا ځای یې شروع کی یعنی دسورتِ بقری آخری رکوع (لله ما فی السّمٰوٰت وما فی الارض) تر رکوع پوری یې ووایه. او په دویم رکعت کی یې دسورتِ فاتحی څخه وروسته دسورتِ مزمل دآخری رکوع ویلو څخه وروسته یې لمونځ ختم کی. په دی حالت کی لمونځ صحیح سو او که نه؟

جواب: دعَمر څخه اول هیره وسوه او غلط یې ووایه، بیا یی دسورتِ بقری آخری آیتونه صحیح ووایه اوپه دویم رکعت کی یې دسورتِ مزمّل آخری رکوع ووایه. لمونځ وسو او سجده سهوه وغیره هیڅ لازم نه دی. خو غوره داده چه دفرائضو په هریوه لمونځ کی او په هریوه رکعت کی داَولو دوارو رکعتو څخه پوره سورت دالْحَمْدُ څخه وروسته ووایی، متفرق آیتونه ویل په فرائضو کی دمستحب څخه خلاف دی. ([1]) فقط

دضاد مخرج کم دی: **سوال**: (۱۴۲۳) ضاد د (ظ) سره مشابه لوستل پکار دی، او که ددال سره مشابه اوکه څرنګه به ویل کیږی ؟

جواب: حرف (ض) یومستقل حرف دی کم چه دعربی ژبی سره مخصوص دی. دانه ددال سره مشابه ویل پکاردی اونه دظاء سره. او دابغیر دیو مستند قاری څخه دمخامخ ازده کولو څخه پرته په پوهه کی نسی راتلی. پاته سوه داچه په دی کی یو قسم تشابُه چه ګڼل کیږی نو دتجوید او قرآئت دکتابونو دعباراتو څخه یې تشابُه دظاء سره معلومیږی. په نهایة القول المفید فی علوم التجوید مطبوعه مصری ص ۴۸ کی ددی تحقیق مبسوط موجود دی. المنح الفکریه علی متن الجزریه مطبوعه مصر لملا علی قاری ص۳۴ – ۳۹ دی وکتل سی. اودحرمینو شریفینو زاد الله شرفهما دقاریانو معمول بها تشابه ددال سره کیږی. چه دهغو دلائل دتنګوالی په وجه نسی عرض کیدی، چونکه دا حالِ کیفی دی صرف په کتابت او تحریر سره په دې پوهیدل ګران دی. فقط

په قرآئت کی څه الفاظ پاته سوه نو لمونځ وسو اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۲۴) که چیری امام په لمانځه کی آیت داسي ووایي: (واذ قال عیسی بن مریم یٰبنِی .... رسول الله الیکم) یعنی دیٰبنی څخه وروسته یې (اِسْرَاٰیلَ اِنّی) پریښووی نو لمونځ وسو اوکه ناقص سو؟ او یوبل مقتدی ته دا آیت یاد وو، هغه فتح هم ورنکړه نو دهغه لمونځ هم وسو او که نه؟

([1]) الافضل ان یقرأ فی کل رکعة الفاتحة وسورة کاملة فی المکتوبة (عالمگیری کشوری ج۱ ص۷۷ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۷۸) ولو قرأ فی رکعة من وسط سورة ومن آخر سورة وقرأ فی الرکعة الاخرٰی من وسط سورة اخرٰی او من آخر سورة اخری لا ینبغی له ان یفعل ذالك علی ماهو ظاهر الروایة ولکن لو فعل ذالك لا باس به (ایضًا، ط. ماجدیه ج۱ ص۷۸). ظفیر

چه په مینځ کی حصه په قران کی پاته سی نو څه حکم دی؟ سوال: (۱۴۲۵) په سورت رحمٰن کی یې حُورٌ مقصورات فی الخیام ویل شروع کړل اوپه مینځ کی ایتونه یې پریښول د: متّکئین علٰی رفرفٍ څخه ترآخره پوری یې وو ایه، نو لمونځ وسو او که نه؟

جواب: (۱) لمونځ وسو، څه نقصان پکښی رانغی. دفتح نه ورکونکی لمونځ هم وسو او دټولو مقتدیانو لمونځ وسو. ([1])

(۲) په دی صورت کی هم لمونځ وسو. څه نقصان پکښی رانغی. ([2]) فقط

په لمونځ کی ضاد څرنګه ویل پکار دی؟ سوال: (۱۴۲۶) لفظ د ضاد په لمونځ کی څرنګه ویل پکاردی؟

جواب: ضاد دخپل مخرج څخه ادا کول پکار دی. که یې نه سی ادا کولی نو چه څرنګه ادا سی لمونځ کیږی. ([3]) فقط

د: لَحَافظون پرځای د: لنافظون په ویلو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۴۴۷) څه فرمایی علماء دین او مفتیان دشرع متین په دی مسئله کی چه امام دلمونځ په مخکنی رکعت کی دلسو ۱۰ آیتونو په مقدار ویلو څخه وروسته سهواً پرځای د: لَحَافِظون، لَنافِظون ووایه ، په دی صورت کی به لمونځ وسی اوکه نه؟ ددی جواب سره دحوالی دکتاب تحریر وفرمایاست.

جواب: لمونځ وسو ([4]). فقط

دضاد کم مخرج دی او څوک چه دال مفخّم وایی دهغه امامت درست دی او که نه؟ سوال: (۱۴۲۸) دجَزری اوشاطبی او تحفه نذریه او ملا علی قاری دعبارت څخه صفا ظاهره ده چه ضاد معجمه ددال اوظاء څخه جلا ویل فرض دی. که یې چیری څوك زده کوی نو ضاد صحیح ویلی سی خو نه یې زده کوی، دظاء یا دال مفخَّم مشابه یې وایی، دهغه امامت درست دی او که نه ؟

جواب: که چیری ضاد په صورت ددال مفخّم ویلو سره دلمونځ نه کیدلو حکم وکړل سی نو په ټولو عربو قراؤ او علماؤ اوامامانو کی به دهیچا لمونځ ونه سی اونه به دهیڅ یوه مقتدی لمونځ وسی. ولی چه هغوی ټول دوالین وایی.

([1]) و([2]) وزاد کلمة او نقص کلمة او نقص حرفا او قدمه اوبدله اٰخر الخ لم تفسد مالم یتغیر المعنی (الدرالمختار علی هامش رد المحتار ج۱ ص۵۹۱ زلة القاری ، ط. س. ج۱ ص۲۳۲). ظفیر

([3]) الاَّ ما یشق تمییزه کالضاد والظاء فاکثرهم لم یفسدها (الدرالمختار ج۱ص۵۹۱، ط. س. ج۱ ص۲۳۳). ظفیر

([4]) لو زاد کلمة او نقص کلمة او نقص حرفا او قدمه اوبدله اٰخر الخ لم تفسد مالم یتغیر المعنی (الدر المختار فصل زلة القاری ج۱ ص۵۹۰ ، ط. س. ج۱ ص ۲۳۲). ظفیر

نو معلومه سوه چه داحکم لګول غلط دی اوپه دی کی حرج دی. البته عمده اوبهتره داده چه دمخرج څخه یې په اداء کولو کی کوشش وکړی، نه دی ظاء وایی اونه دال. اوحضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی قدس سره تحریر فرمایـــلی دی، چه ضاد ددال مفــخّم پــه صورت کی ویلو ته دال ویل صحیح نه دی، لکه څنګه چه طاء، تاء نه ده وَقسْ علیه، بلکه هغه ضاد چې دمفخم دال مشابه معلومیږی هغه مخرج ناقص دی دضاد. ([1]) فقط

❊ ❊ ❊

دوهم فصل: دلمونځ مکروهات

یعني په کومو شیانو سره چې په لمونځ کی کراهت پیدا کیږی

مزارته مخامخ لمونځ کول څنګه دی ؟ سوال: (۱۴۲۹) زید یو جومات تعمیر کړی ددغه جومات دصحن په مینځ کی یومزار دی ...... که چیری یو سړی مزارته مخامخ لمونځ کوی نو جائز دی اوکه نه؟

جواب: قبرته مخامخ فرض اونفل لمونځ کول مکروهه دی ددی دپاره مناسبه داده چې پر داسی موقع باندی که چیری قبروی څنګه چې په دی موجوده صورت کی دی نوددی قبر نښان دی خراب کړل سی نوکله چې دقبر نښان دجومات په فرش کی پاته نه سی نوپه لمونځ کی به څه کراهت نه وی اوکه چیری دقبر نښان خراب نه کړل سی نوبیا قبرته مخامخ لمونځ کول مکروهه دی ددی علاج اوبندو بست که داسی وکړی سی چې دقبر هر طرفته یوه جنګله جوړه کړی سی نوبیابه هم کراهت مرتفع یعنی لیری سی. ([2]) فقط

سجدی ته دتللو په وخت کی پرتوګ لوړول ښه نه دی؟ سوال: (۱۴۷) دقومی څخه سجدی ته دتللو په وخت کی (بعضی خلق) پرتوګ لوړوی دالمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: بی ضرورته داسی کول ښه نه دی اولمونځ اداء کیږی ([3]). فقط

([1]) قوله: مخـــــرج ناقص دی الخ وجه یې داده چه ددال مفخّم په صورت کی دضاد دمخرج یعنی حافۀ لسان مع الاضراس څخه ډیر څه کار اخستل پکار وی اوددال مخرج یعنی دژبی غاړی او دثنایا علیا بیخ ته هم فی الجمله شمول وی البته کم کم چی ددال صفت دی ددال معجم په صورت کی نه اداء کیږی، دلته مخارج اوصفات دفوائد مکیه څخه ماخوذ دی. جمیل الرحمٰن

([2]) وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة الخ ومقبرة (در مختار) واختلف فی علته فقیل لان فیها عظام الموتی وصدیدهم وهو نجس وفیه نظر وقیل لان اصل عبادة الاصنام اتخاذ قبور الصالحین مساجد وقیل لانه تشبه بالیهود وعلیه مشی فی الخانیه ولاباس بالصلاة فیها اذا کان فیها موضع اعد للصلاة ولیس فیه قبر ولا نجاسة ولا قبلة الی قبر (رد المحتار کتاب الصلاة ج۱ ص۳۵۲، ط. س. ج۱ ص۳۷۹). ظفیر

([3]) وکره کفه ای رفعه ولو لتراب کمشمر کم او ذیل وعبثه به ای بثوبه وبجسده للنهی الا لحاجة ولا باس به =

دبل چا په کښت کی بی اجازته لمونځ جائز دی اوکه نه؟ سوال: (١۴٧١) که بی اجازتـه ئـی دبل چاپه زمکه کی لمونځ وکی نولمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: لمونځ وسو. (١) فقط

دعاجزی په وجه باندی سرتور سر لمونځ بی کراهته جائز دی: سوال: (١۴٧٢) په یوه کتـاب کی یې لیکلي دی چه کم سړی سرتور سر په دی نیت سره لمونځ وکړی چه په عـاجزی سره دخدای په دربار کی حاضریږم نو څه حرج نسته ؟

جواب: دایی دفقهی په کتابونوکی هم لیکلی دی چه په ذکر سوی نیت سره په سرتور سر لمونځ کولوکی کراهت نسته. په درمختار کی دی: لا بأس به للتذلل الخ. (٢) فقط

په تولیه یا دستمال ترلو سره لمونځ ورکول څنګه دی؟ سوال: (١۴٧٣) دلنګوټی پرځای پـه دستمال ترلو سره لمونځ ورکول ناجائز دی اوکه نه؟ اوتولیه پر خولۍ باندی ترل مکروهه دی اوکه نه؟ اوپه دی سره لمونځ ورکول مکروه دی اوکه نه؟ اودا اِعْتِجار دی او کـه نـه؟ که چیری یوسړی پرهغه باندی طعن کوی اوجاهلانه الفاظ دتوهین ووایي نودهغه عتاب کول پکاردی او که نه ؟

جواب: تولیه اودستمال پرخولی باندی ترل مکروه نه دی، یعني دلنګوټي په ډول یې تـړل او بیا لمونځ ورسره کول مکروه نه دي، بلکه اطلاق دعمامیورباندی کیږی او تړونکـی به یې دثواب مستحق وی. او اِعْتِجار مکروه نه دی. عصَابه په معنٰی دعمامی هم راځی. او کمه پټۍ (ربښکۍ) چه پرسر باندی ترل کیږی هغی ته هم عصابه وایی. العصابة تاتی بمعنی العمامة کمافی القاموس وشرح الشمائل للقاری (٣). درسول الله ﷺ دعمـامی پـه باره کي منقول دی چه دهغوی ﷺ سره دوې عمامی وی. یوه داوو٧ ذِراعو اویوه ددولسو

= خارج صلاة (درمختار) قال فی النهایه وحاصله ان کل عمل هومفید للمصلی فلاباس به اصله ماروی ان النبی ﷺ عرق فی صلاته فسلت العرق عن جبینه ای مسحه لانه کان یؤذیه فکان مفید وفی زمن الصیف کان مفیدا کیلا تبقی صورة فاما لیس بمفید فهو العبث آه وقوله کی لاتبقی صورة یعنی حکایته صورة الالیة کما فی الحواشی السعدیة الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلوٰة ومایکره فیها ج١ ص۵٩٨ - ۵٩٩، ط. س. ج١ ص٢۴١). ظ

(١) وكذا تكره الخ او للغير لو مزروعة (درمختار) فإن اضطر بين أرض مسلم وكافر يصلي في أرض المسلم إذا لم تكن مزروعة، فلو مزروعة أو لكافر يصلي في الطريق اهـ أي لان له في الطريق حقا كما في مختارات النوازل، وفيها: تكره في أرض الغير لو مزروعة أو مكروبة، إلا إذا كانت بينهما صداقة أو رأى صاحبها لا يكرهه فلا بأس اهـ نقل سيدي عبد الغني عن الاحكام لوالده الشيخ إسماعيل أن النزول في أرض الغير، إن كان لها حائط أو حائل يمنع منه وإلا فلا، والمعتبر فيه العرف اهـ يعني عرف الناس بالرضا (ردالمحتار كتاب الصلاة ج١ ص٣۵۴ ، ط. س. ج١ ص٣٨١). ظفير

(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسدالصلوة ومایکره فیها ج١ ص۵٩٩، ط. س. ج١ ص٢۴١. ظ

(٣) جمع الوسائل .

ذِراعو. لیکن صحیح داده چه په دې کی هیڅ تحدید شرعًا نسته. په قدر دضرورت یې کول کافی دی، (١) په جمع الوسائل شرح الشمائل للعلی القاری کی دي: وقال الشیخ الجزری فی تصحیح المصابیح تتبعت الکتب وتطلبت من السیر والتواریخ لاقف علی قدر عمامة النبی ﷺ فلم اقف حتی اخبرنی من اثق به انه وقف علی شئ من کلام النووی ذکر فیه انه کان له ﷺ عمامةً قصیرةً وعمامةً طویلةً وان القصیرة کانت سبعةَ اذرع مطلقًا من غیر تقیید بالقصیر والطویل (٢) الخ. فقط

په لمانځه کی دبعضو آیتونو پرختم باندی دُعا اودهغه حکم ؟ سوال: (۱۴۷۴) یو عالم امام دتراویحو په لمونځ کی سورتِ رحمٰن ووایه. د (فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ) ویلو څخه وروسته پټه خوله (چپ) سو. مقتدیانو دهغه په جواب کی (لاَ بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ) په جهر سره ووایه. همدغه شان هغه فرائض په کمو کی چه جهری قرآئت کول کیږي په هغه کی دسورت قیامه پرختمیدلو باندی (بَلٰی) اوپه سورتِ اعلیٰ کی پر (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ) باندي (سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى) اودسورة والتِّین پرختمیدلو باندی (بَلٰی وَاَنَا عَلٰى ذَالِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ) وغیره مقتدیان په جهر سره وایی، په تراویحو یافرائضو کی دذکر سوو آیتونو دجوابونو ویلو تعلیم مقتدیانو ته ورکول اوپه هغوی باندی عمل کول څنګه دی؟

امام ته پرداسي آیتونو باندي دریدل څنګه دي؟ سوال: (۱۴۷۵) امام ته دتراویحو یافرض لمونځ په حالت کی دجوابی آیت ویلو څخه وروسته دریدل اودمقتدیانو دجوابونو اوریدلو څخه وروسته بیا قرآئت کول څنګه دی؟

آیاپه دی سره په غیر قرآن کی اشتغال نه راځی ؟ سوال: (۱۴۷۶) پورتنی جوابونه په فرض لمونځ یا تراویحو کی په ویلو سره مقتدی مشتغِل بغیر القرآن دی اوکه نه؟

په داډول په غیر قرآن کی اشتغال مفسد دصلٰوة دی اوکه نه؟ سوال: (۱۴۷۷) ددا قسم اشتغال په بغیر القرآن سره دلمونځ څه حکم دی؟

---

(١) فان لم تکن عمامته بالکبیرة التی یؤذی حملها حاملها الخ ولا بالصغیرة التی تقصر عن وقایة الرأس من الحر والبرد بل کانت وسط بین ذلك الخ وقال السیوطی لم یثبت فی مقدارها حدیث وفی مایدل علی انها عشرة اذرع والظاهر انها کانت نحو العشرة او فوقها یسیر وقال الطحاوی فی فتاویه رأیت مانسب لعائشة ان عمامته ﷺ فی السفر بیضاء وفی الحضر سوداء وکل منها سبعة اذرع الخ وفی تصحیح المصابیح لابن الجزری تتبعت الکتب الخ لاقف علی قدر عمامته ﷺ فلم اقف علی شيء حتی اخبرنی من اثق به انه وقف علی شيء من کلام النووی ذکر فیه انه کان له عمامة قصیرة ستة اذرع وعمامة طویلة اثنا عشر ذراعا (شرح المواهب اللدنیه للزرقانی ج۵ ص۴). ظفیر

(٢) جمع الوسائل.

که چیری کراهت وی نو اعاده یې واجبه ده اوکه نه؟ سوال: (١۴٧٨) که چیری حکم دکراهتِ تحریمی ثابت سی نو لمونځ را ګرځول لازمیږی اوکه نه ؟

په ائمه اربعه کی دا دچا مذهب دی؟ سوال: (١۴٧٩) په خیر القرون کی دکله څخه چه دتراویحو پرشلو رکعتو باندی اجماع سوی ده، داسی عمل چا کړی دی اوکه نه؟ په څلورو امامانو کی دافعل دچا مذهب دی؟

جواب: (١) جائز نه دی، یظهر من الروایات المنقولة فی السوال، وفی شرح المنیة الکبیر واما الامام والمقتدی فلا یفعل ذالك السوال والتعوذ لا فی الفرض ولا فی النفل الذی تقصد منه الجماعة کالتراویح . ([1])

(٢) دامام دافعل مکروه اودلمونځ دموضوع سره منافي دی.

(**۵،۴،٣**) ظاهره ده چی دا اشتغال بغیر القرآن دی اوپه دی سره به په لمونځ کی کراهت تحریمی راسی اوپه کراهت تحریمی کی دلمونځ اعاده واجبه ده، او داعادی دضرورت څخه معلومه سوه چه په مخکنی لمونځ کی نقصان راغی، ددغه نقصان دجبر دپاره اعاده واجب سوه. ([2])

(**٢**) ثابت نه دی، اوپه امامانو کی امام شافعی دا جائز فرمایی. کما فی شرح المنیة الکبیر وان کان المصلی المنفرد فی الفرض یکره له ذالك لعدم الورود وفیه خلاف الشافعی استدل بالحدیث ولنا انه فی النفل کمامر. ([3]) فقط

چه صرف خولی یې پرسر وی نو لمونځ مکروه نه دی: سوال: (١۴٨٠) په خولی پرسر کولو سره امامت کول بغیر کراهته جائز دی اوکه نه؟

جواب: په خولی سره امامت درست دی، څه کراهت پکښی نسته، البته په لنګوټه سره لمونځ کول اوامامت کول افضل دی اوثواب یې زیات دی لیکن خولی هم مکروه نه ده، کذا فی فی شرح المنیة الکبیر. ([4]) فقط

دیوه لاس په اشاري سره ړوند دقبلی طرف ته کول څنګه دی ؟ سوال: (١۴٨١) که چیری څوك نابینا دقبلی طرف ته دسیدلو څخه بغیر دجَمعی په لمونځ کی شامل سی او ورسره

([1]) غنیة المستملی ص ٣۴۵ . ظفیر

([2]) وکل صلوة ادیت مع کراهة التحریم تجب اعادتها والمختار انه جابر للاول (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب صفة الصلاة مطلب واجبات الصلوة ج١ص۴٢۵ – ۴٢٢ ، ط. س. ج١ ص۴۵٢). ظفیر

([3]) غنیة المستملی ص٣۴۵ . ظفیر

([4]) والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحد متوشحا به جمیع بدنه کما یفعله القصّار فی المقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسیر وجود الطاهر الزائد ولکن فیه ترك الاستحباب (غنیة المستملی ص٣٣٧). ظفیر غفرله

نژدي لمونځ ګزار په خپل لاس سره هغه يې قبلې ته برابر کړی، او ددی لمونځ ګزار سينه دقبلی څخه ګرځيدلی نه وه او نه بل څه حرکت دلمونځ ماتونکی ورڅخه وسو نو دهغه لمونځ به وسی او که نه؟ اوکه چيری نابينا دقبلی طرفته برابر ولاړ نه وی او لمونځ اداء کوی نو دهغه لمونځ به درست وی اوکه نه؟

جواب: که چيری ديوه لاس په اشاری او حرکت سره ددغه نابينا مخ قبلې ته سَم کړی نو دغه فعل قليل دی او په فعل قليل سره لمونځ نه فاسديږی. اوکه چيری ضرورت په دواړو لاسونو سره دسمولو وی نو دا فعلِ کثير دی. که چيری داسی وکړی نو دسمونکی لمونځ به ونسی. اوبهتره داده چه که چيری ددی نابينا مخ دا لمونځ ګزار سَم کړی نو بيا دی دنوی سره نيت وتړی ([1]) او که چيری ده سم نه کړی نو دنابينا لمونځ کيږی. فقط

دروازې يې بندی کړی لمونځ يې شروع کړی او څوک راغی شور يې جوړ کړی، نوڅه وکړی؟ سوال: (۱۴۸۲) په يوې وجهی سره که چيری څوك دکوټی دروازه ددننه څخه بنده کړی اولمونځ شروع کړی اوبل څوك دبهر څخه دننه راتلل غواړی خو خبر نه دی چه دننه سړی لمونځ کوی، حالانکه بهر والا دومره تنګول وکړی، چه دننه والاته دلمونځ رجوع ګرانه سی، اوس لمونځ ګزارڅه طريقه اختياره کړی؟

که دلمونځ په حالت کی انسان ياحيوان حمله وکړی، نو څه به کوی؟ سوال: (۱۴۸۳) دهمدی لمونځ قائم والی په حالت کی به ددښمن مقابله څنګه کوی، که هغه انسان وی يا حيوان يا دمزکی حشرات وی، چه دنقصان انديښنه پکښی وی؟

جواب: (۱) په داسی حالت کی که چيری په غاړی تازه کولو سره کار کيږی نو غاړه تازه کول درست دی دپاره ددی چه دبهر څخه راتلونکی پوه سی چه دی لمونځ کوی. څنګه چه يې په در المختارکی ويلی دی: او للاعلام انه فی الصلوة فلا فساد علی الصحيح ([2]) الخ هغه پاته لمونځ کول په دی صورت کی درست نه دی. کما يظهر من تفصيل العلماء.

(۲) لمونځ دی مات کړی. په در المختار کی دی: وما يباح قطعها لنحو قتل حية ([3]) الخ فقط.

([1]) ويفسدها كل عمل كثير ليس من اعمالها ولاصلاحها وفيه اقوال خمسة اصحها ما لا يشك بسببه الناظر من بعيد فی فاعله انه ليس فيها وان شك انه فيها ام لا، فقليل (در المختار) رواه الثلجی عن اصحابنا، حلية، القول الثانی ان ما يعمل عادة باليدين كثير وان عمل بواحدة كالتعمم وشدّ السراويل وماعمل بواحدة قليل الخ واكثر الفروع او جميعها مفرّع علی الاولين والظاهر ان ثانيهما ليس خارجا عن الاول لان مايقام باليدين عادة يغلب ظن الناظر انه ليس فی الصلوة (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة الخ ج۱ ص۵۸۳ - ۵۸۴. ط. س. ج۱ ص۲۲۴). ظفير

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مايفسد ومايكره فيها ج۱ ص۵۷۸، ط. س. ج۱ ص۲۱۹. ظفير

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج۱ ص۲۱۲، ط. س. ج۱ ص۲۵۱. ظ

(ددی څخه مخکي عبارت دی: ویباح قطعها لنحو قتل حیة، وند دابة، وفور قدر، وضیاع ما قیمته درهم، له أو لغیره (درالمختار) قوله ویباح قطعها ای لو کانت فرضا کما فی الامداد. شامی ([1]) ظفیر)

که دلمونځ ګزار لنګ یاپرتوګ خلاص سی، نو په دواړو لاسونو سره یې تړل درست دی که نه؟ سوال: (۱۴۸۴) که چیری دلمونځ په حالت کی دلمونځ ګزار لنګ یا پرتوګ پرانستل سو نولمونځ ګزار یی په دواړو لاسونو سره تړلی او لمونځ پوره کولی سی اوکه نه دنوی سره به لمونځ کوی. هم دغه شان تنۍ یابند یاتوپۍ یا څادر داتول کارونه ددواړو لاسونو دی، ددی په سمولو سره به دلمونځ څه حکم وی ؟

جواب: دمُنیه په شرح کبیری کی دی: ویکره ایضا فی الصلٰوة نزع القمیص والقلنسوة الخ وکذا یکره لبسها اذا کان النزع واللبس بعمل یسیر لانه عمل اجنبی من الصلوة لایحصل به تَتْمِیم شیئ من اعمالها ولهٰذا کان مفسداً اذا حصل بعمل کثیر بان احتاج الی الیدین او کان مما لو رآه الناظر ظنه لیس فی الصلوة ([2]) الخ. ددی عبارت څخه معلومه سوه چه دلمونځ په حالت کی قمیص اوخولۍ کنبل اواغوستل که چیری په عمل کثیر سره وی یعنی په یوه لاس سره وی اوپه دي طریقی سره وی چه لیدونکی پردی لمونځ ګزار باندی دا خیال ونکړی چه دی په لمونځ کی نه دی نو مکروهه دی، اوکه چیری په عمل کثیر سره وی، نو (داعمل) لمونځ ماتونکی دی. اوپرتوګ وغیره تړل اولنګ وغیره تړل ددواړو لاسونو څخه بغیر په ظاهره ګران دی لهٰذا داعملِ کثیر دی او لمونځ ماتونکی به وی. ([3]) فقط

دهوسۍ رنګ سوی څرمن مصلی جوړول درست دی: سوال: (۱۴۸۵) دهوسۍ پرداسی څرمن باندی پرکمی چه څلور نوکان او ښکرونه ځړیزی مصلّی ورڅخه جوړول او لمونځ پر کول مکروهه دی او که نه؟

جواب: پردغه څرمن باندی لمونځ بغیر کراهته درست دی، دکراهت وجه هیڅ نسته. ([4])

([1]) رد المحتار ایضًا ، ط. س. ج۱ ص۶۵۴. ظفیر

([2]) غنیة المستملی مکروهات صلوة ص۳۴۴ . ظفیر

([3]) ویفسدها کل عمل کثیر لیس من اعمالها ولا لاصلاحها وفیه اقوال خمسة اصحها لا یشك بسببه الناظر من بعید فی فاعله ان لیس فیها وان شك انه فیها ام لا فقلیل الخ (در المختار) القول الثانی ان ما یعمل عادةً بالیدین کثیر وان عمل بواحدة کالتعمم وشد السراویل وما عمل بواحدة قلیل وان عمل بهما کحلِّ السراویل ولبس القلنسوة الخ (رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۸۳ – ۵۸۴ ، ط. س. ج۱ ص۶۲۴). ظفیر

([4]) شعر المیتة وعظمها طاهر وکذا العصب والحافر والخف والظلف والقرن والصوف والوبر والریش والسن والمنقار والمخلب الخ (عالمګیری کشوری باب المیاه فصل ثانی ج۱ ص۲۳ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۲۴) کل =

پہ لوڅو څنګلو سره لمونځ مکروه دی: **سوال**: (۱۴۸۶) که څنګلی لڅی وی نو لمونځ کیږی اوکه نه ؟

جواب: لمونځ کیږی خو داکار دسنت څخه خلاف دی اومکروهه دی. یعنی کله چه کپړه موجوده وی، اوکه چیری نه وی نو (بیا) څه کراهت نسته. (1) فقط

دغلا سوی کپړی څخه په جوړی سوی خولی سره لمونځ کول څنګه دی ؟ **سوال**: (۱۴۸۷) اکثره خلق داسی کوی چه دخیاط څخه څه کپړه وغواړی یاپه قمیص کی مثلاً کالر لګوی نو خیاط یې دبل چا دکپړی څخه لګوی، په داسی کپړی سره لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: لمونځ اداء کیږی لیکن داسی کول جائز نه دی اوکه چیری غالب ګمان وی چه دې خیاط دغلا کپړه لګولی ده نو په دی سره لمونځ هم مکروه کیږی اګر چه اداء به سی. (2) فقط

که لمونځ ګزار په پیک وهلو سره خوشحالیږی نو دهغه په لمونځ کی څه کراهت نسته: **سوال**: (۱۴۸۸) کـه چیری لمونځ ګزارتـه یوسړی پَیـك وهـی اولمونځ ګـزار پـه دی فعـل سـره خوشحالیږی، نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

جواب: که لمونځ ګزارته څوك دالله درضا دپاره پَیك وهی او لمونځ ګزارته په دې سره راحت وی، اوهغه په ډاډه زړه سره لمونځ پوره کړي، نوپه دې سره په لمونځ کی څه فساد او کراهت نه راځی، لمونځ کونکی که په دی سره خوشحاله سی نو بیا به هم دهغه په لمونځ کی څه فساد او کراهت نه راځی. او په جوماتونو کی چه کمې پَنکې لګیدلی دی په هغو سره (هم) دچاپه لمونځ کی کراهت نه راځی. البته لمونځ کونکی ته پخپله داحکم چاته کول نه دی پکار چه ته ماته دلمونځ په وخت کی پیك وهه، ځکه چه داخبره دادب څخه خلاف ده. اګر چه په لمانځه کی به په دی سره هم څه کراهت رانسی. فقط

دلمونځ ګزار مخ ته دتیریدلو حد څه دی ؟ **سوال**: (۱۴۸۹) دلمونځ ګزار مخ ته تیریدل منع دی. ددی څه حد دی، که چیری یو سړی دباندې پرفرش باندی لمونځ کوی نو په جومات کی دننه دهغه مخ ته تیریدل جائز دی اوکه نه؟

= اهاب دبغ دباغة حقیقیة بالادویة اوحکمیة بالترتیب والتشمیس والالقاء فی الریح فقد ظهر وجازت الصلوٰة فیه (ایضًا ، ط. ماجدیه ج۱ ص۲۵). ظفیر

(1) ولو صلی رافعًا کُمّیه الی المِرفقین کره کذا فی فتاوی قاضی خان (عالمگیری کشوری باب مایکره فی الصلوٰة ج۱ ص۱۰۵ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۱۰۶). ظفیر

(2) وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة الخ وارض مغصوبة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوٰة قبیل باب الاذان ج۱ ص۳۵۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۰۳). ظفیر

جواب: ددی حد دادی چه په لوی جومات کی ترکم ځای پوری چه دلمونځ گزار نظر رَسیږی کله چه هغه خپل نظر دسجدی پرځای باندی ولری، تردغه ځای پوری دی مخ ته ځوك نه تیریږی. نوکه چیری یو سړی دباندي په فرش باندی لمونځ کوی نو په دننه حصه کی یې مخ ته تیریدی سی. (۱) فقط

په لمانځه کی دتندی خاوره څنډل څنګه دي؟ سوال: (۱۴۹۰) په لمانځه کی اکثره پرتندی باندی خاوره لګیږی، ددی پاکول څنګه دی؟

جواب: په لمونځ کی دی نه پاکوی، که دلمونځ څخه وزی اوصفا یې کړی نوڅه حرج نسته. لیکن ښه داده چه نه دی صفا کوی. (۲) فقط

په فوجی خولی سره لمونځ جائز دی: **سوال**: (۱۴۹۱) که چیری یو سړی دخولۍ پرځای پر سر باند فوجی خولۍ بی ضرورته کښیږدی او لمونځ کوی یا امامت کوی نو لمونځ یې جائز دی اوکه نه؟ او دلمونځ څخه بغیر یې پر سر کول څنګه دی؟

جواب: په دی خولۍ سره لمونځ کیږی، په لباس او خولۍ کی څه خاص طریقه اووضع مامور به نسته بلکه څنګه چه دکم ملك عادت اورواج وی، دهغه موافق لباس او خولۍ وغیره اچول درست دی. په حدیث شریف کی دی (كُلُوْا مَا شِئْتُمْ وَالْبِسُوْا مَا شِئْتُمْ) الحدیث (۳)

یعنی چه څه مو خوښ وی هغه خورئ اوچه څه موخوښ وی هغه اغوندی خودحرامو څخه ځان ساتئ او تکبّر او اسراف مه کوی. فقط

چه په جیب کی درشوت پیسی وی نو لمونځ کیږی اوکه نه؟ همدارنګه درشوت په پیسو سره په اخستل سوو جاموکی لمونځ څنګه دی ؟ سوال: (۱۴۹۲) که چیری دیوه سړی په جیب کی درشوت پیسې پرتی زی نو دهغه لمونځ کیږی اوکه نه؟ او درشوت په پیسو جوړه سوی جامه چه پربدن باندی وی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

جواب: لمونځ کیږی اوپه لمانځه کی کراهت په دی وجهی سره نسته، ځکه چه درشوت گناه ځان ته ده، اوکه چیری پربدن باندی درشوت په روپو سره جوړه سوی کپړه وی نو دهغی سره لمونځ مکروهه دی. (۴) فقط

---

(۱) ومرُوْر مارٍّ فی الصحراء وفی مسجد کبیر بموضع سجوده فی الاصح او مرور بین یدیه اوحائط القبلة فی بیت ومسجد صغیر فانه کبقعة واحدة مطلقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۹۳ ، ط. س. ج۱ ص۶۳۴). ظفیر

(۲) ویکره للمصلی ان یمسح عرقه اویمسح التراب عن جبهته فی اثناء الصلوة الخ ولایکره بعد الصلام (غنیة المستملی ص ۳۴۵). ظفیر

(۳) داحدیث مو په دی الفا ظو سره نکړی پیدا نودلمونځ په جائزوالی کی قطعًا هیڅ کلام نسته، والله اعلم. ظفیر

په لمانځه کی دماشوم وغیره تصوّر بنه نه دی: سوال: (۱۴۹۳) په لمانځه کی دزوی وغیره تصوّر کول جائز دی اوکه نه؟

(۲) دخه دُنیاوی شیانو خیال کول څنګه دی؟

قصداً دهلک تصوّر کول څنګه دی ؟ سوال: (۱۴۹۴)

(۳) دتکبیر تحریمه څخه وروسته چه دزوی خیال وکړل سی نو څنګه ده؟

جواب: (۲، ۱) په لمونځ کی دالله تعالی څخه ماسِوا هیڅ تصوّر اودهیڅا تصوّر اودهیڅا خیال قصداً کول نه دی پکار. ([1])

(۳) نه دی پکار. ([2]) فقط

دسلام څخه وروسته ددُعا کولو څخه بغیر مقتدی تلی سی: سوال: (۱۴۹۵) مقتدی ته دامام په دُعا کښی شریکوالی ضروری دی اوکه دوخت لحاظ دی وکړل سی ؟

جواب: که چیری مقتدی ته ضرورت وی او څه ضروري کاري يې وی نو دسلام څخه وروسته په سمدستی تللو کی څه ګناه نسته اوپه هغه باندی څه طعن کول نه دی پکار، اوکه چیری ددُعا ترختمیدلو پوری انتظار وکړی اودامام سره په دُعا کی شریك سی نو دا بنه ده او په دی کی زیات ثواب دی. ([3]) فقط.

دغلط لمونځ کونکی اصلاح کول جائز دی: سوال: (۱۴۹۶) کم سړی چه بی طرفه لمونځ کوی هغه په لاس سره سیده کول پکاردی اوکه په ژبی سره؟

جواب: په لاس سره سیده کول يې هم درست دی اوپه ژبی سره هم، په دی سره به په لمونځ کی خلل رانسی. ([4]) (یعنی ددغه لمونځ کونکی په لمونځ کی به خلل نه راځی، او سیده کوونکی که چیری په خپله په لمانځه کی وی نوهغه ته دیوه لاس په اشاری سره سمول پکاردی که په ژبی سره يې ورته وویل نو لمونځ بی يې ونه سی، ولی چه په لمونځ کی په خبرو کولو سره لمونځ فاسدیږی. والله اعلم ظفیر)

([4]) لکه څرنګه چه په غصب سوی مزکه کی مکروه دی، وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة الخ وارض مغصوبة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة ج۱ص۳۸۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۰۳). ظفیر

([1]) ان المساجد لله فلا تدعوا مع الله احدا (الجن : ۱۸). ظفیر

([2]) وفی الفتاوی لو تفکر فی صلاة فتذکرّ حدیثا او شعراً او خطبة او مسئلة یکره ولا تفسد صلاته کذا فی السراج الوهاج (عالمگیری مصری . باب مایفسد الصلوة ج۱ص۹۴ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۹۸). ظفیر

([3]) ویستحب ان یستغفر الخ ویدعو ویختم بسبحان ربك (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلاة بعد الفصل ج۱ ص۴۹۵ ، ط. س. ج۱ ص۵۳۰). ظفیر

([4]) ولو اعمٰی فسوّاه رجل بنٰی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص۴۰۳ ، ط. س. ج۱ ص۴۳۴). ظفیر

دلمونځ په حالت کې ځادر یا کمبله پرځان پیچل درست دي اوکه نه؟ سوال: (١٤٩٧) دلمونځ په حالت کې ځادر یاکمبله پرسر باندی اچول پکاردی اوکه پرأوږه باندی. او دهغی دچپه طرف دواړه ګنجونه دی ځوړند وی اوکه دې پر اوږه واچول سي، بهتره کم یو دی؟

جواب: دواړه ډوله اچول صحیح دي، او داهم صحیح دي چې دچپه طرف دواړه ګنجونه دي زړیدلي اوسي ولی چه کله یې درسته طرف غاړه پرچپه اوږه باندی واچوله نو سَدَل کم چه مکروهه دی پاته نه سو. او بهتره داده چه دچپه طرف ګنجیان هم پر أوږی باندی واچوی. ([1]) فقط

دزوَر او زیر پرغلطی باندې فتح ورکول درست دي: سوال: (١٤٩٨) که چیری دامام ځخه دزور او زیر غلطی وسی په کمی سره چه په معنٰی کی هیڅ فرق نه راځی نو په داسی حالت کی په فتح ورکولو سره به کراهت وی اوکه نه؟

جواب: په داسی حالت کی په فتح ورکولو کی هیچ کراهت نسته. دغلطی اصلاح ضروری ده. ([2]) فقط

په مینځ کی کوچنی سورت پریښودل مکروه دی اوپه دی حالت کی دلمونځ اعاده مستحب ده: سوال: (١٤٩٩) امام دمابنام په لمونځ کی په اولني رکعت کی سورت کوثر اوپه دویم کی سورت نصر ولوستی، یوه خو داغلطي سوه چي اول یې کوچنی او وروسته یې لوی (سورت) ووایه، دویم دترتیب ځخه خلاف کوچنی سورت په مینځ کی پاته سو، په دی صورت کی اعاده واجبه وه اوکه نه؟ که چیری اعاده ئی وکړه نوګنهګار خوبه نه وی ثواب به ئی وسي اوکه نه؟

جواب: کوچنی سورت په مینځ کی پریښودل مکروه تنزیهی دی.

لهٰذادغه لمونځ اعاده واجب نه ده لیکن چاچی یې اعاده وکړه نوګناه پکښی نسته بلکه بهتره ده اوثواب دی لکه ځنګه چی په شامی کی دفتح القدیر ځخه منقول دی: والحق التفصیل بین کون تلك الكراهة كراهة تحريم فتجب الاعادة او تنزيهية فتستحب ([3]) الخ او په سورة

([1]) وكره الخ سدل ثوب اى ارساله بلا لبس معتاد (در المختار) فعلى هذا تكره الطيلسان الذى يجعل على الرأس وقد صرح به شرح الوقاية اهـ اذا لم يدره على عنقه والاً فسدل (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٥٩٧ ، ط. س. ج١ ص٦٣٩). ظفير

([2]) بخلاف فتحه على امامه فانه لا يفسد مطلقا لفاتحة واٰخذ بكل حال (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٦٢٢). ظفير

([3]) رد المحتار باب صفة الصلوٰة، واجبات الصلوٰة ج١ ص ٤٢٥ ، ط. س. ج١ ص٤٥٥. ظفير

کوثر او نصر کی دلوی او کوچنی کیدلو دومره فرق نسته چی کراهت ورسره لازم سی ([1]). فقط

بې ضرورته سجدی ته دتللو پروخت پرتوګ پورته کول دادب خلاف دي: **سوال**: (١٥٠٠) سجدی ته دتللو په وخت کی پرتوګ پورته کول څنګه دی ؟

جواب: بې ضرورته ښه نه دی. ([2]) فقط.

کله فتح ورکول پکاردي؟ سوال: (١٥٠١) دامام څخه په قرآئت کی هیره وسوه اوبل سورت یې شروع کی، دوه ۲ واری یې فتح ورکړه خوامام فتح وانخیسته. فتح کم وخت ورکول پکار دی. او دفتح ورکونکی لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: که چیری امام دسورتِ فاتحی ویلو څخه وروسته ددری ۳ آیتونو په اندازه ویل کړي وی نودفتح ورکولو انتظَار مکروهه دی، بلکه فوراً رکوع کول پکاردی. اوکه ددری ۳ آیتونو څخه مخکی ورڅخه هیر سوه نو بهتره داده چه دبل یوځای څخه دی ویل شروع کړي. که داسی یې ونه کړل نو کله چه مقتدی ته ثابته سی چه امام ته مخ ته نه وریادیږی نو فتح دی ورکړي. بغیر دمهلت ورکولو څخه سمدستی فتح ورکول مکروهه دی. کما فی الشامی ([3]) ص٢٥٠ ، او لمونځ بهر حال صحیح ([4]) دی. فقط

دبی لمنی قمیص سره لمونځ کول جائز دي: **سوال**: (١٥٠٢) که چیری څوك بی لمنو قمیص واغوندی اولمونځ کوی نو لمونځ به یې مکروهه وی اوکه نه؟

جواب: په بی لمنو قمیص کی لمونځ کول بغیر دکراهت څخه جائز دی، ولی چه مقصود ستر دعورت دی او هغه په دی صورت کی حاصل دی. فقط

که په ویلو کی سورت ورڅخه هیر سی نو بل دی شروع کړي: **سوال**: (١٥٠٣) که چیری امام داَلْحَمْدُ شریف څخه وروسته یوسورت دعَمَّ سیپاری څخه شروع کی او دهیریدلو په وجه

([1]) واطالة الثانية على الاولى يكره تنزيها اجماعا ان بثلاث أيات ان تقاربت طولا وقصرا والا اعتبر الحروف والكلمات واعتبر الحلبى فحش الطول لاعدد الأيات واستثنى فى البحر ما وردت به السنة واستظهر فى النفل عدم الكرهة مطلقًا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل فى القراءة ج١ ص٥٠٧ ، ط. س. ج١ ص٥٤١). ظفير

([2]) وكره كفه اى رفعه ولو لتراب كمشمر كم او ذيل وعبثه به اى ثوبه للنهى الاّ لحاجة (در المختار) وحاصله ان كل عمل هو مفيد للمصلى فلا باس به (ردالمحتار باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها ج١ ص٥٩٨ – ٥٩٩). ظ

([3]) ويكره ان يفتح من ساعة كما يكره للامام ان يلجئه اليه بل ينتقل الى اية اخرى لا يلزم من وصلها ما يفسد الصلوة اوالى سورة اخرى اويركع اذا قرأ قدر الفرض كما جزم به الزيلعى وفى رواية قدر المستحب كما رجحه الكمال الخ (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيهاج١ ص٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٦٢٢). ظفير

([4]) بخلاف فتحه على امامه فانه لا يفسد مطلقا لفاتح واخذ بكل حال (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٦٢٢). ظفير

يې ونه ويلی سو، نو آيا امام ته دا اختيار سته چه هغه دتبارك الذی يا بلی يوې سيپاری څخه يوه رکوع ووايي ؟

جواب: په دی صورت کی امام ته پکاردی چه دبل ځای څخه دی ويل وکی (١). فقط

چه دجومات مغربی طرف ته دديوال څخه دباندي قبرونه وی نوپه دی سره نقصان نه کيږی:

سوال: (١٥٠٤) ديوه جومات دمغربی اړخ څخه ماسوا په ټولو اطرافو کی قبرونه جوړ سوی دی، نوآيا په مغربی اړخ کی قبرونه تياريدی سی اوکه نه؟ اوآيا دجومات ديوال کم چه حائل دی هغه کافی دی اوکه نه؟

جواب: که په دغه مغربی اړخ کی قبرونه جوړ کړل سی نو په لمونځ کی به کراهت نه وی ولی چه دجومات مغربی ديوال کافی حائل دی، قال فی شرح المنية لاباس فی الصلوٰة فی المقبرة اذا کان فيها موضع اعد للصلوٰة وليس فيه قبر وهٰذا لان الکراهة مطلقة بالتشبيه باهل الکتاب وهو منتف فيما کان علی الصفة المذکورة (٢) الخ. فقط

په ولايتی کالو کی لمونځ درست دی: **سوال**: (١٥٠٥) په ولايتی کالو کی لمونځ کول صحيح دی اوکه نه؟

جواب: په دغو کالو کي لمونځ درست دی. (٣) فقط

لمونځ ګزارته مخامخ په جومات کی پريوتل او خبری کول مکروهه دی: **سوال**: (١٥٠٦) کله چه په جومات کی لمونځ ګزار لمونځ کوی دهغوی ترمينځ پريوتل اوپه ناستی خبری کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: دلمونځ کونکو په خوا کی په داشان خبری کول چه دهغوی په لمونځ کی دسهوی او نقصان راتللو بيره وی مکروهه دی. (٤) فقط

په تمباکو سره لمونځ کيږی اوکه نه؟ **سوال**: (١٥٠٨) که يوسړی دڅکولو تمباکو دځان سره واخلی او لمونځ ورسره کوی نو لمونځ کيږی او که نه ؟ دتمباکو دود ته اکثره خلق حرام

---

(١) يکره ان يفتح من ساعته کما يکره للامام ان يلجئه اليه بل ينتقل الی آية اخری لا يلزم من وصلها مايفسد الصلوٰة او الی سورة اخری (ردالمحتار باب مايفسدالصلوٰة ومايکره فيها ج١ ص٥٨٢، ط.س. ج١ ص٦٢٢). ظ

(٢) غنية المستملی ص٣٥٠ . ظفير

(٣) ځکه چه حکمًا پاکه ده او دلمونځ دپاره همدا شرط دی: ولو شك فی نجاسة ماءٍ اوثوب الخ لم يعتبر (در المختار) من شك فی انائه وثوبه فهو طاهر الخ وکذا مايتخذه اهل الشرك والجهلة من المسلمين کالسمن والخبز والاطعمة (رد المحتار کتاب الطهارة مطلب ابحاث الغسل ج١ ص.... ، ط. س. ج١ ص١٥١). ظفير

(٤) وصلاته الی وجه انسان ککراهة استقباله فالاستقبال لو من المصلی فالکراهة عليه والاّ فعلی المستقبل ولو بعيدا الخ ولا يکره الی ظهر قاعد اوقائم ولو يتحدث الا اذا خيف الغلط بحديثه (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب مايفسد الصلاة ومايکره فيهاج١ ص ٢٠٢ وص٢١٠ ، ط. س. ج١ ص٦٤٤). ظفير

وائی نو دتمباکو څکول هم مکروهه سوه؟

جواب: دتمباکو څکول حرام نه دی اونه دهغه دود حرام دی اونه نجس دی، نو که چیری په تمباکو کی هیڅ پلیت شی نه وی نو دځان سره دهغه په ایښولوسره لمونځ کیږی. مطلب دادی چی تمباکو پخپله خو ناپاك نه دی لیکن په هغه کی چی کمه ښیره اونور شیان اچول کیږی که چیری هغه پاك وی پلیت نه وی نوبیا دهغه سره لمونځ صحیح دی که څه هم چی ښه خبره نه ده. ([1]) فقط

<u>په لمانځه کی بار بار پرتوګ پورته کول ښه نه دی ؟</u> سوال: (۱۵۰۸) په لمانځه کی بار بار پرتوګ پورته کول څنګه دی ؟

<u>په سجدوکی پښې بی ځایه کول څنګه دی ؟</u> سوال: (۱۵۰۹) سجدی ته دتللو په وخت کی دواړی پښی دزمکی څخه پورته کول یا مخکی وروسته کول څنګه دی، ددی سره لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: (۱) بار بار پورته کول ئی ښه نه دی لیکن لمونځ صحیح دی. ([2])

(۲) په دی کی هم لمونځ صحیح دی لیکن حتی الوسع دی داسی قصداً نه کوی. ([3])

<u>چه دسر مینځ لڅ وی نو لمونځ کول څنګه دی؟</u> سوال: (۱۵۱۰) که چیری پرسرباندی پټکی وی او خولۍ نه وی، په مینځ کی سر لڅ وی نو لمونځ څنګه دی؟

جواب: داسی کول مکروهه دی خو لمونځ کیږی. ([4]) فقط

<u>په لمانځه کی څنګلي ښکاره ساتل مناسب نه دی ؟</u> سوال: (۱۵۱۱) په لمانځه کی لستونی تر اُوږو پوری پورته کول څنګه دی، په لمانځه کی څه خلل خونه راځی؟

جواب: لمونځ کیږی، خو دا کار ښه نه دی. ([5]) فقط

([1]) قلت فیفهم منه حکم النبات الذی شاع فی زماننا المسی بالنتن وقدکرهه شیخنا العمادی فی هدیته بالثوم والبصل بالاولی (در المختار) قوله فیفهم منه حکم النبات وهو الاباحة علی المختار (رد المحتار کتاب الاشربة ج۵ ص۴۰۷ ، ط. س. ج۱ ص۴۲۰). ظفیر

([2]) ویکره للمصلی ان یعبث بثوبه وبجسده الخ (هدایه مایکره فی الصلوة ج۱ ص۱۲۴). ظفیر

([3]) ومنها السجود بجبهته وقدمیه ووضع اصبع واحدة منها شرط(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۱۲ ، ط. س. ج۱ ص۴۴۷). ظفیر

([4]) ویکره اشتمال الصماء والاعتجار (درمختار) لنهي النبي ﷺ عنه وهو شد الرأس او تکویر عمامة علی رأسه ترکه وسطه مکشوفا (ردالمحتار ج۱ ص ۲۱۰ – ۲۱۱ ، ط. س. ج۱ ص۲۵۲). ظفیر

([5]) وکره کفه ای رفعه ولو لتراب کمشمر کم اوذیل وعبثه به ای بثوبه (در المختار) قوله کمشمر کم الخ ای کما لو دخل فی الصلوة وهو مشمر کمه اوذیله الخ لکن قال فی القنیة واختلف فیمن صلی وقد شمر کمیه کعمل کان یعمله قبل الصلوة اوهیئته ذالك ومثله ما لوشمر للوضوء ثم عجل لادراك الرکعة مع الامام واذا دخل فی الصلوة کذالك وقلنا بالکراهة فهل الافضل ارخاء کمیه فیها بعمل قلیل اوترکها لم اره والاظهر الاول الخ وقید =

دجالي داري خولۍ سره لمونځ مکروهه نه دي: **سوال**: (۱۵۱۲) دجالي داري کپړې خولۍ سره لمونځ مکروهه کيږي اوکه نه، او دهميشه استعمالولو حکم يې څه دی؟

جواب: کمه جامه اغوستل چه سړيو لره مباح دي، که چيرې هغه جاله داره وي دهغې خولۍ سره لمونځ درست دی. اودهغې (جامې) استعمال په دې طريقې سره چه کشف دعورت نه کيږي درست دی. فقط

سترګې پټول څنګه دي ؟ سوال: (۱۵۱۳) چه سترګې پټې کړې اوپه لمونځ کې قرآئت کوی نو څنګه دی ؟

جواب: په لمانځه کې سترګې پټول ښه نه دي يعنې مکروه تنزيهې دی او خلافِ اولی دي، (۱) او دخشوع اوخضوع حاصلولو په غرض سترګې بندول بغير کراهته درست دی بلکه بعضو عالمانو فرمايلي دی چه دخشوع حاصلولو دپاره سترګې بندول اَولٰی دی. په شامي کې دي: بَل قال بعض العلماء اَنَّهُ الْاَولٰی. (۲) فقط

دشک له وجهي څخه دبيا راګرځولو اړتيا نسته: **سوال**: (۱۵۱۴) که دلمونځ په سجده کې يې په ناخبرتيا سره دُعاء وکړه، بيا چه ورته معلومه سوه چه داجائز نه ده، اوس داشك سو ورته چه دا دُعا کلامُ النّاس وه اوکه نه وه؟ نواعاده يې واجبه ده اوکه نه؟

جواب: په شك کې داعادې ضرورت نسته، که اعاده وکړې نو ښه ده. فقط

خلاف ترتيب قرآئت مکروه دي: **سوال**: (۱۵۱۵) زيد د: وَالضُّحٰی څخه وروسته په دوهم ۲ رکعت کې وَالشَّمْسِ وايه نو په لمونځ کې څه نقص راغی، لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: قصداً په فرضو کې داسې کول مکروهه دی اوکه سهواً داسې وسې نو څه حرج نسته. اوبهر حال لمونځ صحيح دی. (۳) فقط

په اولني رکعت کې والضّحٰی اوپه دويم ۲ کې په وَالتّين ويلو سره کراهت پيدا کيږي او که نه؟ **سوال**: (۱۵۱۶) په اول رکعت کې يې والضّحی ووايه او په دويم کې يې اَلَمْ نَشْرَح پريښوول او والتّين يې ووايه نو دامکروه دی اوکه نه؟

= الکراهة فی الخلاصة والمنية بان رافعا کميه الی المرفقين (رد المحتار باب مايفسد الصلاة ومايکره فيها ج۱ ص۵۹۸ ، ط. س. ج۱ ص۲۴۰). ظفير

(۱) وکره الخ تغميض عينه للنهی الاَّ لکمال الخشوع (درالمختار) ثم الظاهر ان الکراهة تنزيهيّةٌ (رد المحتار باب مايفسد الصلوة وما يکره فيها ج۱ ص۲۰۵ ، ط. س. ج۱ ص۲۴۵). ظفير

(۲) رد المحتار باب مايفسد الصلوة ومايکره فيها ج۱ ص۲۰۴ ، ط. س. ج۱ ص۲۴۰. ظفير

(۳) ويکره الفصل بسورة قصيرة وان يقرأ منکوسا الاَّ اذا ختم القرآن (در المختار) منکوسا بان يقرأ فی الثانية سورة اعلی مما قرأ فی الاولی لان ترتيب السور فی القراء من واجبات الصلوة (رد المحتار فصل فی القراءة ج۱ ص۵۱۰ ، ط. س. ج۱ ص۵۴۲). ظفير

جواب: په کوچنیو سورتونو کی فقهاؤ داسی کول مکروهه لیکلی دی، یعنی داچه یو سورت په مینځ کی پریښوول سي اودریم سورت په دویم رکعت کی وویل سي، په فرضوکی مکروهه دی، لیکن والضّحٰی او اَلَمْ نَشْرَحْ او والتِّیْن په کوچنیو سورتونو کی نه دی بلکه په اوساطو مفصّلوکی دی لهٰذا په دی کی داصورت مکروه نه دی. (١) فقط

دطلا یا وریښمو په جامو کی لمونځ درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (١٥١٧) پرکمی خولۍ باندی چه طلا کار سوی وی دهغی سره لمونځ کول یاورکول یا دوریښمی جامی سره لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: که چیری دځلورو ګوتو څخه زیات کار پرسوی وی نو استعمال دهغی ناجائز دی او لمونځ ورسره کول مکروه دی. همدغه شان حکم دریښمی جامی دی. (٢) فقط

دلمونځ ګزار طرف ته مخ کول او کښېنستل مکروهه دی: **سوال**: (١٥١٨) لمونځ ګزارته مخامخ مخ کول اوکښېنستل څنګه دی. که چیری دمخکی څخه ثوك ناست وی او دهغه دمخ طرف ته ثوك لمونځ شروع کړی یا دمخکی څخه ثوك لمونځ کوی او هغه طرفته ثوك مخ کړی کښېنی نو په دی دواړو صورتونو کی به لمونځ مکروه وی اوکه په یوه صورت کی، اوکراهت به په دواړو صورتو نو کی دچا طرفته راجع کیږی؟

جواب: په در المختار کی دی: وصلٰوته الی وجه انسان ککراهة استقباله فالاستقبال لو من المصلی فالکراهة علیه والاً فعلی الْمُستقبِل (٣) الخ یعنی که استقبال دلمونځ ګزار دطرفه وی نو کراهت پرهغه باندی دی اوکه چیری دبل دطرف څخه وی نو کراهت پرهغه باندی دی پر لمونځ ګزار باندی نه دی.

چه امام پرفرش وی او مقتدی پرمصلی وی نو په دی سره لمونځ نه فاسدیږی: **سوال**: (١٥١٩) زید وایی چه په جَمع کی ترامام لاندی جای نماز یا مصلّی وی او تر مقتدیانو لاندی نه وی نو لمونځ نه کیږی، همداسي ده؟

جواب: که چیری ترامام لاندی جای نماز او مُصلّی وی او ترمقتدیانو لاندی نه وی یا بر عکس وی نو لمونځ په دواړو صورتونو کی صحیح دی. (٤) فقط

---

(١) ویکره الفصل بسورة قصیرة (در المختار) اما بسورة طویلة بحیث یلزم منه اطالة الرکعة الثانیة اطالة کثیرة فلا یکره شرح المنیة (ردالمحتار فصل في القراة ج١ ص٥١٠، ط. س. ج١ ص٥٤٦). ظفیر

(٢) یحرم لبس الحریر الخ علی الرجل لا المرأة الاً قدر اربع اصابع (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی اللبس ج٥ ص٣٠٨، ط. س. ج٦ ص٣٥١). ظفیر

(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسدالصلوة ومایکره فیها ج١ ص٢٠٢، ط. س. ج١ ص٥٤٥. ظ

(٤) ځکه چه په دی سره څه خرابوالی نه پیدا کیږی صرف دځای پاکوالی ضروری دی برابره خبره ده که وربان‌دی جای نماز غوړیدولی وی اوکه نه وی، والله اعلم. ظفیر

<u>په ساړي کی دښځو لمونځ جائز دي اوکه نه؟</u> سوال: (۱۵۲۰) ښځو لره ساړی تړل او دهغه سره لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

جواب: ښځو لره ساړی وهل او دهغه سره لمونځ کول درست دی غرض دادی چی پرده پکار ده که ساړی وی اوکه پرتوګ وی ددی څه خصوصیت نسته ([1]). فقط

<u>دناپاکه حیوان دوازګی سره لمونځ</u>: سوال: (۱۵۲۱) که چیری د (ناکه) په نوم بحری حیوان دوازګی تیل په لاسونو اوپښو باندی مالش کړل سی اوبی پریمنځلو لمونځ وکړل سی نو لمونځ به درست وی اوکه نه؟

جواب: لمونځ په دی صورت کی صحیح دی. فقط

<u>دفاسق په اقامت سره په لمونځ کی خرابی نه راځي</u>: سوال: (۱۵۲۲) کم سړی چه زانی وی او دخپل زوی پرښځه باندی په بدنیتی سره لاس واچوی، دهغه په اقامت کولو سره په لمونځ کی څه نقصان راځی اوکه نه؟

جواب: ددغه سړی په تکبیر (یعنی اقامت) ویلو سره په لمونځ کی څه نقصان نه راځی. ([2])

<u>که په لمونځ کی دتُوکلو ضرورت پیښ سي نو څه به کوي؟</u> سوال: (۱۵۲۳) که په لمانځه کی ورته په ډکه خوله دتوکلو ناړی راغلی نو یو طرف ته یې تُوك کړی او که نه؟

جواب: که تیرولی یې نسی نو په جامه کی دی واخلی. ([3]) فقط

<u>دڅاڅکی دبیری څخه پرمخصوص اندام (ذکر) باندی په کپړی پیچلو سره په لمونځ کی نقصان نه راځي</u>: سوال: (۱۵۲۴) دقطری راوتلو دبیری څخه یې دمتیازو پرځای باندی کپړه تړل او لمونځ کول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: صحیح دی. ([4])

([1]) والرابع ستر عورة ووجوبه عام ولو فی الخلوة علی الصحیح الخ وهی الخ للحرة ولو خنثی جمیع بدنها حتی شعرها النازل فی الاصح فلا الوجه والکفین الخ والقدمین (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب شروط الصلاة ج۱ ص ۳۸۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۰۴) دعورت پټول برابره خبره ده په پای جامې سره وي اوکه په ساړي سره دواړه برابردي، دافکرصحیح نه دی چي ساړي اغوستل دهندوانو لباس اوجامه ده بلکه دهېواد (هندوستان) په بعضو حصوکي مسلماني ښځي هم دا لباس اغوندي، لکه څنګه چي دپای جامې اغوستلو په علاقوکي ډیری هندواني ښځي هم پای جامې اغوندي، یعني ددوی هم دا لباس وي اودمسلمانو ښځوهم، والله أعلم. ظفیرالدین

([2]) وکره اذان الجنب واقامته واقامة المحدث واذان المرأة والفاسق (کنز) واما الفاسق فلان قوله لا یوثق به ولا یقبل فی الامور الدینیة الخ (البحر الرایق باب الاذان ج۱ ص۲۷۷) په دی کی دفاسق اذان ته مکروهه ویلی دی لیکن دهغه اقامت ته یی مکروهه نه دی ویلی، والله اعلم. ظفیر

([3]) قال النبی ﷺ فلا یبزقن احدکم قبل قبلة ولکن عن یساره او تحت قدمه ثم اخذ طرف ردائه فبَصقَ فیه ثم رد بعضه علی بعض فقال او یفعل هٰکذا، رواه البخاری (مشکوة باب المساجد ص۷۱). ظفیر

([4]) یستحب للرجال ان یحتشی ان رابه الشیطان ویجب انکان لا ینقطع الاّ به قدر مایصلی (الدرالمختار علی =

مُرور بین الصَّفَّین: **سوال**: (۱۵۲۵) یو عالم سړی ددوو صفونو ترمینځ دتیریدلو دجائز والی په استدلال کی حدیث شریف دحضرت عبد الله بن عباس پیش کوی آیا دا استدلال صحیح دی. او دامام صاحب په نزد مسئله څنګه ده؟

جواب: دا دحنفیانوهم مذهب دی چه دامام سُتره دمقتدیانو دپاره کافی ده. په درالمختار کی دی: وکفت سترة الامام للکل، (۱) اودحضرت ابن عباس ﷺ درروایت څخه صرف داثابتیږی چه دلمونځ ګزار مخ ته تیریدل لمونځ نه ماتوی اوهمدا مذهب دحنفیهٔ (۲) دی. او ددی څخه علاوه هغه ترهغه وخته پوری بالغ نه وو. هغوی پخپله فرمایی چه ناهزتُ البلوغ، یعنی زه هغه وخت بلوغ ته نژدی وم، نو په دی سره دمُرور دجواز حُجّت نسی کیدی. (۳) فقط

دشیعه ګانو په جُومات کی دسُنی لمونځ درست دی: **سوال**: (۱۵۲۶) سُنیان دشیعه ګانو په جوماتونو کی او شعیه ګان دسُنیانو په جوماتونو کی لمونځ اداء کولی سی اوکه نه؟

جواب: لمونځ کولای سي. (۴) فقط

په لمونځ کی دپوزی څخه آواز ایستل څنګه دی؟ **سوال**: (۱۵۲۷) یو سړی زکام دی، که چیری هغه دمخارجو څخه دصحیح حروف ایستلو په وجهی سره سُو سُو کوی یعنی په پزه کی لوړ طرف ته په ساه راکشولو سره پزه سموی نو داجائز دی اوکه نه؟

جواب: په لمونځ کی داسی آواز ایستل نه دی پکار، بیا هم که چیری دحروفو دمخارجو دتصحیح په ضرورت سره (دغه آواز) وایستل سو نو لمونځ صحیح دی. (۵) فقط

= هامش رد المحتار نواقض الوضو ج۱ ص۱۳۹ ، ط. س. ج۱ ص۱۵۵). ظفیر

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره ج۱ ص۵۹۷ ، ط. س. ج۱ ص۶۳۸. ظفیر

(۲) ولایفسدها الخ مرور بین یدیه ای حائط القبلة فی بیت ومسجد صغیر فانه کبقعه واحدة مطلقا ولو لمرأة او کلبًا (درالمختار) بیان الاطلاق واشار به الی الرد علی الظاهریة بقولهم یقطع الصلاة مرور المرأة والکلب والحمار وعلی احمد فی الکلب الاسود، والی ان ماروی فی ذالك منسوخ کما حققه فی الحلیة (رد المحتار باب ما یفسد الصلوة ج۱ ص۵۹۳ ، ط. س. ج۱ ص۶۳۴). ظفیر

(۳) وعن ابن عباس قال اقبلت راکبا علی اتان وانا یومئذ قد ناهزت الاحتلام الخ (مشکوٰة باب السترة ص۷۴) په بل حدیث کی صراحت دی: قال رسول الله ﷺ لو یعلم المار بین یدی المصلی ماذا علیه لکان ان یقف اربعین خیرا له ان یمر بین یدیه (متفق علیه) په یوه روایت کی دی: فلیقاتله فانما هو شیطان رواه البخاری (وګوری مشکوٰة باب السترة ص۷۴). ظفیر

(۴) قال النبی ﷺ وجعلت ای الارض مسجدا (مشکوٰة باب فضائل سید المرسلین ص۵۱۲). ظفیر

(۵) والتنحنح بحرفین بلا عذر اما به بأن نشأ من طبعه فلا او بلا غرض صحیح فلو لتحسین صحته الخ فلا فساد علی الصحیح (درمختار) لانه یفعله لاصلاح القراءة فیکون القرآءة معنی (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۷۸ ، ط. س. ج۱ ص۶۱۸). ظفیر

په هیره سره دخلاف ترتیب قرآئت څه حکم دی؟ سوال: (١٥٢٨) امام په وروستنی رکعت کی سورتِ رحمٰن ووایه اوپه دویم کی لِلّٰہِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ نو لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په هیره سره په داسی کولوکی لمونځ بی کراهته صحیح دی. ([1]) فقط

دجومات پرچت باندی لمونځ مکروه دی: سوال: (١٥٢٩) یوزوړ جومات چه یوه کوټه یې وه اوس دهغه مخ ته نوی برنډه جوړه کړل سوه. دنوی برنډی پرچت باندی لمونځ کول جائز دی او که نه؟

جواب: دجومات پرچت باندی لمونځ کول فقهاؤ مکروهه لیکلی دی اوپه دی کی زړه حصه اونوی برنډه دواړه برابر ([2]) دی. فقط

په فرضوکی دآیتونو په تکرارولو سره نقصان کیږی اوکه نه؟ سوال: (١٥٣٠) که چیری په فرض لمونځ کی یو سړی دخدای ﷻ دبیري پرزړه باندی دطاری کیدلو په وجه یاپه طور ددُعا یوآیت دویم وار یا دریم وار ووایی نوپه داسی کولو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: تکرار دیو آیت په بعضو احوالوکی ثابت دی. نو په لمونځ کی په دې سره څه خلل نه راځی، لیکن تکرار دآیت کم چه ثابت دی هغه په نوافلوکی دی، په فرائضو او جماعت کی داسی کول نه دی پکار، اګر چه لمونځ کیږي. ([3]) فقط

په اشارې کولو سره په لمونځ کی خرابی نه راځی: سوال: (١٥٣١) زید او عَمرو دماپښین په لمونځ کی دبَکر اقتداء وکړه. زید چونکه نابینا دی، دریم ٣ رکعت یې څلورم وګڼی او کښېنستی. عَمرو زید نابینا ته اشاره وکړه نو دزید اوعَمرو په لمونځ کی څه نقصان خو رانغی ؟

جواب: هیڅ نقصان رانغی. ([4]) فقط

دجومات کمي تمبې چه دناچ دپاره ورکړل سوی وی په هغی کی لمونځ درست دی: سوال:

([1]) ویکره الفصل بسورة قصیرة وان یقرأ منکوسا (درالمختار) انما یکره اذا کان عن قصد فلو سهوا فلا کما فی شرح المنیة (ردالمحتار فصل فی القراءة ج١ ص ٥١٠ – ٥١١ ، ط. س. ج١ ص٥٤٢). ظفیر

([2]) ثم رأیت القهستانی نقل عن المفیدة کراهة الصعود علی سطح المسجد اهـ ویلزمه کراهة الصلوة ایضًا فوقه (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب فی احکام المسجد ج١ ص٦١٤، ط. س. ج١ ص٦٥٦). ظ

([3]) واذا کرّر آیة واحدة مرارا فان کان فی التطوع الذی یصلی وحده فذالك غیر مکروه وان کان فی الصلوة المفروضة فهو مکروه فی حالة الاختیار واما فی حالة العذر والنسیان فلا باس هکذا فی المحیط (عالمګیری کشوری، فصل فیما یکره فی الصلوة ج١ ص١٠٢ ، ط. ماجدیه ج١ ص١٠٧). ظفیر

([4]) لاباس بتکلیم المصلی واجابته برأسه او أری درهما وقیل آجیّد؟ فأومأ بنعم او لا، او قیل کم صلیتم فأشار بیده انهم صلوا رکعتین (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص٢٠٣ ، ط. س. ج١ ص٦٤٤). ظفیر

(١٥٣٢) یو سړی دجُومات تنبې (دلرګي پایې) په ناچ (١) کی ورکړی وي اوس تر دغه تنبُو لاندی لمونځ کولی سی اوکه نه؟ لمونځ ګزارو ته دلمر په وجهی سره تکلیف وی.

جواب: ددغه تنبولاندی لمونځ کول جائز دی، دلمر وغیره په وخت کی هغه په جُومات کی لګول پکاردی اوآینده دی دناچ اوداسي نورو محفلو دپاره نه ورکوي. فقط

دراتلونکی سړي په رعایت سره قرآئت اوږدول ښه نه دي: **سوال**: (١٥٣٣) امام ته په لمانځه کی دلمونځ ګزارو راتللو علم وسو، نو آیا امام په دی خیال سره قرآئت یا رکوع او سجده اوږده کړی اوکه هیڅ لحاظ دی نه کوی؟

جواب: په درالمختار کی دی چه امام ته دراتلونکو دشاملیدلو په خیال رکوع او قرآئت اوږدول مکروه تحریمی دی یعنی که چیری دغه کس پیژنی، اوکه نه یې پیژنی نو مکروه تنزیهی دی. (٢)

اشاره مفسد دصلٰوة نه ده: **سوال**: (١٥٣٤) که چیری یونابینا یابینا سړی په جَمع کی دامام په خلاف ناست پاتی سو، حال دا چه امام ودریدی، په داسی حالت کی بل مقتدی دغه سړی ته تنبیه ورکړی او که نه. که خبَروی یې نو څنګه وکړی، سُبحانَ الله ووایي، اوکه بل څه، اوکه دلاس یا پښې اشاره وکړی په داسی معمولی طریقه چه خپل لمونځ یې فاسدنه سی. که چیری مقتدی دامام سره سلام وګرځوی حالانکه هغه ته یورکعت بل پاته وو، او دبل مقتدی په وینا سره ودریدی نو په دی صورتونوکی خوبه لمونځ نه فاسدیږی ؟

جواب: دمقتدی په ناست پاته کیدلوسره اودهغه په اشاری سره په متنبّه کولوکی دشامی وغیره په تحقیق سره عدمِ فساد دلمانځه ظاهریږی او ددی ټولو صورتونو کم چه تاسی لیکلی دی، یو حکم دی یعنی لمونځ نه فاسدیږی.

په در المختار کی دی: لاباس بتکلم المصلی واجابته برأسه کما لوطلب منه شيء او اری درهمًا وقیل أجید فأومأ بنعم اولا او قیل کم صلیتم فاشار بیده أنهم صلوا رکعتین. اما لو قیل له تقدم فتقدم او دخل احد الصف توسع له فورًا فسدت. ذکره الحلبی وغیره خلافًا لما مر عن البحر وردالمحتار قوله: أما لو قیل هو ما وعد به فیما تقدم قبیل قوله وفتحه علی امامه وقدمنا هناك ضعفه عن الشرنبلالیة (٣) . فقط

---

(١) ناچ : یعني یوډول کیږدۍ اوسایه دار ځای چي دنڅا،ګډا، اتڼ اونورو مراسمو لپاره تیاریږي. حقاني"

(٢) وکره تحریما اطالة رکوع او قراءة لادراك الجائی ای ان عرفه والا فلا باس به ولو اراد التقرب الی الله تعالی لم یکره اتفاقا لکنه نادر وتسمیة مسئلة الریاء فینبغی التحرز عنها (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب صفة الصلاة مطلب فی اطالة الرکوع للجائی ج١ ص ٤٢٢ ، ط. س. ج١ ص٥٠٩). ظفیر =

دوسوسی په وجهی سره نیت ماتول مناسب نه دي: **سوال**: (۱۵۳۵) دزید په لمانځه کی شک سو، چه زما جامه پاکه نه ده، په هغه وخت یې لمونځ پرېښوی دنوی سره یې جامی بدلی کړی، او چونکی بیمار وو په دی وجه دنوی سره یې تیمم وکړی او لمونځ یې شروع کړی بیا په لمانځه کی هغه ته دخپل تیمم دنادرست والی یا دمتیازو دقطری یا عدمِ طهارت شُبه یا وسوسه پیدا سوه حالا نکه دهغه مزاج شکی دی اوهغه ته اکثر وسوسی او شُبهی راځی. لیکن دوباره وربانذی دشُبه کیدلو دخلقو دخندا په وجه هغه بغیر دقرآئت او تکبیر او تسبیح او التحیات اودرود څخه لمونځ پوره کړی اوپه قیام اوقعود وغیره سره یې دقیامِ صلٰوۃ او قعود صلاۃ نیت ونکړی. اوددو رکعتونو سنتو پرځای یې همدغه شان بغیر دنیت او قراءت وغیره څخه صرف قیام او قعود وغیره وکړل. دهغه څخه وروسته هغه پرخپل دی کار باندی سخت پښیمانه اونادم سو او توبه یې وکړه او ددغه لمونځ اعاده یې وکړه نو دغه سړی ګنهګار سو او که نه؟

جواب: په داسی وسوسو او شکونو سره په لمونځ کی څه خلل نه راځی زیدته لمونځ پوره کول پکار وو، دادهغه دجهل او ناپوهی په وجهی سره وسوه، چه قرآئت وغیره یې پرېښوول او لمونځ یې فاسد کړی. پرهر حال کله چه ددغه لمونځ اعاده یې وکړه نو لمونځ وسو. اوچونکه هغه په غلطی سره لمونځ فاسد کړی اوقرآئت اونور ارکان یې پرېښوول، او لمونځ یې بیا راوګرځوی، ځکه نوله ده څخه چي کمه ګناه سوي وه هغه معاف سوه، آئنده دی داسی نه کوی. فقط

دوسوسې علاج: **سوال**: (۱۵۳۲) که چیری دیوه سړی په مزاج کی شکونه او وسوسې په کثرت سره پیدا کیږی نو دهغی ددفع کولو څه صورت دی؟

جواب: دوسوسو او شکونو اووهمونو دفع کولو همدا صورت دی، چه هغه دی شیطانی وسوسه وګڼی او دهغې طرفته دی التفات (توجه) نه کوی، اوپه هغی دی عمل نه کوی او لمونځ دی پوره کړی. په احادیثو کی ددی همدا علاج وارد سوی دی. (١) فقط

چه دوه۲ سړیان په یو ځای کی جلا جلا لمونځ کوی نو داجائزدي: **سوال**: (۱۵۳۷) چه دوه۲ سړیان په یو ځای کی جلا جلا فرض لمونځ اداء کوی نو کیږی اوکه نه؟

دښځی په مخامخ راتللو سره لمونځ نه فاسدیږی : **ســوال**: (۱۵۳۸) که چیری دلمونځ داداء

---

(٣) رد المحتار باب مایفسد الصلاۃ وما یکرہ فیها ج۱ ص۲۰۳ ، ط. س. ج۱ ص۲۴۴. ظفیر

(١) عن القاسم بن محمد ان رجلا ساله فقال انی اهم فی صلاتی فیکثر ذالك علی فقال له امض فی صلاتك فانه لن یذهب ذالك عنك حتی تنصرف وانت تقول ما اتممت ثلاتی رواہ مالك (مشکوۃ باب الوسوسه فصل ثالث ص ۱۹). ظفیر

کولو په وخت کی ښځه مخامخ راسی نولمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: (١) لمونځ دهریوه په دی صورت کی صحیح دی. ([1])

(٢) او دښځو په مخامخ راتللو سره په لمونځ کی څه خلل نه راځی او لمونځ فاسد نه سو. ([2]) فقط

په قرآئت کی په بندیدلو او راګرځولو سره لمونځ فاسدنه سو: **سوال**: (١٥٣٩) مشهوره ده چه که چیری امام په قرآئت کی بند سو اودرې ٣ واری یې راوګرځوی او صحیح یې ونه ویلای سو نو لمونځ ماتیږی داصحیح ده که غلطه ؟

جواب: داخبره غلطه مشهوره ده، لمونځ نه ماتیږی. ([3]) فقط

فتحه ورکول درست دی: **سوال**: (١٥٤٠) یو حافظ صاحب تراویح ورکړی اوپه اوه ویشتمه ٢٧ شپه یې قرآن شریف ختم کی، دجومات دمحلی بعضی خلق چاچه لمونځ کوی، یوه شپه په تراویحوکی هغه سیپاره واوریده کمه چه هغوی نه وه اوریدلی. په دی صورت کی که چیری امام غلط ویل وکی نو سامع لره غلطی وربنوول جائز دی اوکه نه؟ که چیري فتح ورکړل سوه او هغه فتح واخیسته، نو لمونځ به جائز وی اوکه نه؟

جواب: سامع لره هغه ته غلطی ښوول اوفتح ورکول او هغه لره فتح اخستل درست دی، دهیچا په لمونځ کی څه خلل رانغی. په در المختار کی دی: بخلاف فتح علی امامه فانه لا یفسد مطلقا لفاتح وآخذ بکل حال ([4]) الخ. فقط

په پښه یوې او بلې خواته کولو سره لمونځ نه فاسدیږی: **سوال**: (١٥٤١) لمونځ کونکی دلمونځ په شروع کی چه کم ځای ولاړوی دلمونځ په حالت کی یو واری یا څو واری عمداً یا سهواً که چیری رسته پښه دخپل ځای څخه اخواته سی نوپه دی سره په لمونځ کی څه کراهت یا فساد راځی او که نه ؟

جواب: درسته یا چپه پښې دخپل ځای څخه په اخواته کیدلو سره نه لمونځ ماتیږی، اونه

([1]) ویؤیده ما فی الظهیریة لو دخل جماعة المسجد بعد ما صلّی فیه اهله یصلون وحدانا وهو ظاهر الروایة (رد المحتار باب الامامة مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد ج١ ص٥١٧ ، ط. س. ج١ ص٥٥٣). ظفیر

([2]) ولا یفسدها نظره الی مکتوب الخ ومرور مار فی الصحراء وفی مسجد کبیر بموضع سجوده فی الاصح او مرور بین یدیه الخ مطلقا ولوامرأة اوکلبًا (درالمختار) واشار به ای الرد علی الظاهریة (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ج١ ص٥٩٣ ، ط. س. ج١ ص٦٣٤). ظفیر

([3]) یکره ان یفتح من ساعته کما یکره للامام ان یلجئه الیه بل ینتقل الی اٰیة اخری لا یلزم من وصلها مایفسد الصلوة اوالی سورة اخری اویرکع اذا قرأ قدر الفرض کما جزم به الزیلعی (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ج١ ص٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٦٢٢). ظفیر

([4]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسدالصلوة ومایکره فیها ج١ ص٥٨٢، ط. س. ج١ ص٦٢٢. ظ

مکروه کیږي. البته قصداً بی ضرورته پښه مخ ته او وروسته کول مکروهِ تنزیهی یعنی خلافِ اولی دی (۱).

په لمونځ کی سر ښورول او هاخوا دیخوا ته کیدل منع دی: **سوال**: (۱۵۴۲) که چیری امام په لمونځ کی سرښوروی او په کوچنیو کوچنیو سورتونو کی هم کله پر رسته اړخ او کله پرچپه اړخ باندی په بوج اچولو سره لمونځ کوی او خپلو اندامونو لره هم حرکت ورکوی بلکه په قرآئت کی آوازونه هَا، هُو او دژړا آواز باسی نو دداسی لمونځ اوآواز په باره کی څه حکم دی؟

جواب: داسی حرکتونه په لمونځ کی نه دی پکار، ځکه چه مَبنٰی دلمونځ پرخشوع او خضوع باندی ده. (۲) فقط

په پاکو څپلیو کی لمونځ جائز دی: **سوال**: (۱۵۴۳) یو سړی لمونځ گزاردی هغه په خپل علم کی خپلي څپلۍ اوخپلی جامی په ښه ډول سره پیژني چه داپاکي دی اوپه روزانه استعمال کی راولی، نو ددغه پیزار سره لمونځ کیدی سی اوکه نه؟ پریوی څپلۍ باندی پلیتی لگیدلی وه هغه یې بالکل صفا کړه، پلیتی ورباندي پاته نسوه، دهغه سره لمونځ کولی سی اوکه نه؟

جواب: څپلۍ که چیری پاکي وی یعنی پلیتی ورباندي نه وی لگیدلی، یا لگیدلی وه خو پاکي اوصافي کړل سوی وی نوپه دواړو صورتونوکی په هغوکی لمونځ درست دی لیکن چونکه په دی زمانه کی په جوماتونو کی فرش وغیره وی او دڅپلۍ سره جومات ته په تللو کی دفرش په خَتی وغیره سره دککړکیدلو احتمال سته، بل داچه په دی کی بی ادبی هم معلومیږي، ددی وجه څخه په جومات کی دی په څپلیو کی لمونځ نه کوی. کما فی الشامی: ولعل ذالك محمل ما فی عمدة المفتی من ان دخول المسجد متنعلاً من سوء الادب (۳) الخ .

غیرلمونځ گزار لره فتح ورکول درست نه دی: **سوال**: (۱۵۴۴) که چیری دامام اودس مات سو او هغه دخلیفه ټاکلو وروسته نوی اودس شروع کړی. که چیری دنائب امام څخه هیره وسی اواولني مُحْدَث امام هغه ته څه وښیی اوفتح ورکړی نوداجائزدی اوکه نه؟ حالانکه

---

(۱) وان من لوازمه (ای الخشوع) ظهور الذل وغض الطرف وخفض الصوت وسکون الاطراف (ردالمحتار باب ما یفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب فی الخشوع ج۱ ص۲۰۰ ، ط. س. ج۱ ص۲۴۱). ظفیر

(۲) وانّ من لوازمه (ای الخشوع) ظهور الذل وغض الطرف وخفض الصوت وسکون الاطراف (رد المحتار باب ما یفسد الصلوة وما یکره فیها مطلب الخشوع ج۱ ص ۲۰۰ ، ط. س. ج۱ ص۲۴۱). ظفیر

(۳) ردالمحتارباب مایفسد الصلوٰة ومایکره فیهامطلب فی احکام المسجد ج۱ ص۲۱۵، ط. س. ج۱ ص۲۵۷. ظ

دهغه اودس هم نسته او دجَمعی څخه خارج دی؟

جواب: په دی صورت کی فتح ورکول درست نه دی. اوکه امام فتح واخلی نودهغه لمونځ به فاسد سی وکذا الاخذ (در المختار) ای اخذ المصلی غیر الامام بفتح من فتح علیه مفسد ایضًا کما فی البحر عن الخلاصة او اخذ الامام بفتح مَن لیس صلاته کما فیه عن القنیة (۱) در المختار. فقط

دلنګوټې څخه بغیر لمونځ مکروه نه دی: **سوال**: (**۱۵۴۵**) آیا دلنګوټې څخه پرته په خولۍ سره لمونځ کول مکروه دي اوکه نه؟ په فتاوی سعیدیه کي یې مکروه بللي او مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله ورته جائز بلا کراهته ویلي دي؟

جواب: اقول وبالله التو فیق. دمنیه په شرح کبیری کی دی: والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحد متوشحًا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسر وجود الطاهر الزاید ولکن فیه ترك الاستحباب (۲) ددی روایت څخه معلومه سوه چه دلنګوټې څخه بغیر لمونځ مکروه نه دی. البته دعمامی سته والی مستحب دی، اودعمامی دنیستوالی په صورت کی سره ددی چه مُیَسّره وی ترك داستحباب دی. نو دحضرت مولانا ګنګوهی قدس سره غرض همدا دی چه اګر چه ترکِ عمامه خلاف داستحباب ده لیکن جائز بِلا کراهت دی، او دمستحب په پرېښولو سره کراهت لازم نه دی کما صرح به الشامی من انه لا یلزم من ترك المستحب ثبوت الکراهته اذ لا بدّ لهامن دلیل خاص (۳) نوصحیح همدغه دی کم چه حضرت مولانا ګنګوهی قدس سره لیکلی دی. اوپه فتاوٰی سعیدیه کی یې چه دی ته مکروهه ویلی دی دابه دهغه قول پر بنا باندی وی څوك چه وایی چه ترکِ مستحب خلافِ اولی دی. اودخلافِ اَولی او مکروه تنزیهی درجه یوه ده. نومراد دصاحبِ فتاوٰی سعیدیه مکروه تنزیهی کیدل دی. لیکن دشامی دتحقیق څخه معلومه سوه چه مکروه تنزیهی ورته ویل هم نه دی پکار. البته دلنګوټې په وجهی سره دثواب زیاتوالی مسلّم دی، لکه څنګه چه دټولو مستحباتو په اداء کی دثواب زیاتوالی دی، لیکن ددوی په ترك کی کراهت نسته لکه صلٰوةِ ضُحٰی وغیره. فقط

دلمانځه په حالت کی که دخولی څخه یو شی دباندي ته راسی نو لمونځ نه فاسدیږي: **سوال**:

---

(۱) ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۸۱ – ۵۸۲ ، ط. س. ج۱ ص۶۲۲. مخ ته مفتی علام لیکلی دی چه لاحق حکمًا په لمونځ کي داخل دی. په دی وجه هغه لره فتحه ورکول درست دی. ظفیر

(۲) غنیه المستملی ص ۳۳۷ . ظفیر

(۳) ردالمحتار بحث مستحبات وضوء ج۱ ص۱۱۵ . ظفیر

(**۱۵۴۶**) که په لمونځ کی دنخود په مقدار یاکم یا زیات دخوراك شی دلمونځ گزار خولې یا ژبی ته راسی نوپه کیږی یالاس سره یې دباندي په را ایستلو سره په لمونځ کی نقصان راځی او که نه؟

جواب: په دې سره په لمونځ کی څه نقصان نه راځی. (١) فقط

<u>**دصابون په لګولو سره لمونځ کول درست دي**</u>: **سوال**: (**۱۵۴۷**) که انګریزی یا دیسی صابون ولګوی او لمونځ کوی نو درست دی اوکه نه؟

<u>**په نوی څپلی اوجامی سره لمونځ کول درست دي**</u>: **سوال**: (**۱۵۴۸**) نوی څپلی اونوی جامه بغیر دمینځلو څخه اغوستل او لمونځ ورسره کول درست دی اوکه نه؟

جواب: (١) په انګریزی یا دیسی صابون لګولو سره لمونځ کول درست دی. (٢)

(٢) دنوی څپلی او جامی سره لمونځ کول درست دي. (٣)

<u>**دامام په لوړ ځای اومحراب کی دریدل مکروهه دي**</u>: **سوال**: (**۱۵۴۹**) دجومات محراب دمزکی څخه یوه لویشت او څلور ګوتی (یو سپك) لوړ دی په کم کی چه امام یوازی دریږی او لمونځ کوی، نو دمقتدیانو لمونځ به وسی اوکه نه؟ که لمونځ یې کیږی نو په څومره لوړوالی کی به نه کیږی ، او دمحراب متعلق څه مسئله ده؟

جواب: امام لره په لوړ ځای کی یوازي دریدل همدغه شان په محراب کی یوازي دریدل مکروهه دی او دمقتدیانو لمونځ صحیح دی. او دلوړوالی په اړه په درمختار کي دا تفصیل راغلی دی: وقدر الارتفاع بذراع ولا بأس بما دونه وقيل ما يقع به الامتياز وهو الاوجه ذكره الكمال وغيره، وفى الشامى هو ظاهر الرواية والاولى العمل بظاهر الرواية. الخ (٤).

---

(١) لو كان معه حجر فرمى به الطائر او نحوه لا تفسد صلاته لانه عمل قليل ولكن قد اساء لا شتغاله بغير الصلاة (ردالمحتار باب مايفسد الصلاة ج١ ص۵۸۸). ظفير

(٢) صابون پاك دی، محض دشك په وجهی سره دناپاكوالی حكم نسی پر كیدی. داقاعده ده چي: اليقين لايزول بالشك ، يعني يقين نه ايسته په شك سره. ظفير

(٣) وصلاته فيهما افضل (درالمختار) اى فى النعل والخف الطاهرين افضل مخالفة لليهود وفى الحديث صلوا فى نعالكم ولا تشبهوا باليهود رواه الطبرانى كما فى ابى الصغير رامزا لصحته واخذ منه جمع من الحنابلة انه سنة ولوكان يمشى بها فى الشوارع لان النبى ﷺ وصحبه كانوا يمشون فى طرق المدينة ثم يصلون بها قلت لكن اذا خشى تلويث فرش المسجد بها ينبغى عدمه وان كانت طاهرة الخ ولعل المراد ما فى عمدة المفتى من ان دخول المسجد متنعلا من سوء الادب (رد المحتار باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها ج١ ص۶۱۵). ظفير

(٤) ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص ۶۰۵، ط. س. ج١ ص۶۴۲، په محراب كی دریدل مكروه دی الخ وقيام الامام في المحراب لا سجوده وقدماه خارجه لان العبرة للقدم مطلقًا (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب ايضاً ج١ ص۶۰۴ ، ط. س. ج١ ص۶۴۵). ظفير

په لڅو څنګلو سره لمونځ مکروهه دي: **سوال**: (۱۵۵۰) دنیم لستوني والا په قمیص کی لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: لمونځ کیږی (لیکن که چیری څنګله لڅه وی نو دا مکروهه دی). (1) فقط

په عَبا (چَپَنه) اوجُبه کی په لستوڼوکی دلاس دننه کولو څخه بغیر لمونځ مکروهه دي: **سوال**: (۱۵۵۱) دخراسان په ملك کی خلګ دیخ په موسم کی لوی پوستین اغوندي چه اوږده لستوڼی لری او لاسونه په لستوڼی کی نه ورکوی. په دې طریقه لمونځ کول څه حکم لری آیا دا طریقه په سَدل کی حسابیږی؟

جواب: دفقهی په کتابونوکی په صراحت ذکردی چه لمونځ کول په دغه طریقه مکروهه کیږی ځکه چه اِسم دسَدَل پردی باندی هم صادق راځی، دمنیه په شرح کبیری کی یې ویلی دی: ولو صلّی فی قباء الخ ینبغی ان یدخل یدیه فی کمیه الخ احترازًا عن السدل (2) ص ۳۳۲، وفی الشامی والصحیح الذی قاله قاضی خان والجمهور انه یکره لانه اذا لم یدخل یدیه فی کمیه صدق علیه اسم السدل الخ ج ۱ ، ص ۴۳. فقط

پرکټ باندي لمونځ جائز دي: **سوال**: (۱۵۵۲) که چیری څوك دصحت په حالت کی فرض یا نفل لمونځ په کَټ کی کوی، نو جائز دی اوکه نه؟

جواب: لمونځ صحیح دی. (3) فقط

دکمي څپلی، تَلی چه ناپاک وی په هغی کی لمونځ درست نه دي: **سوال**: (۱۵۵۳) دبوټ کمه حصه چه دمزکی سره لګیږی هغه پاکه نسی پاته کیدی، لیکن که دتلی پورتنۍ حصه پاکه وي نو په دغه بوټونو کی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: کله چه دبُوټ لاندینی حصه کمه چه پرمزکه باندی لګیږی هغه پاکه نه ده، نو پر هغه باندی مسح جائز نه ده اوپه دغه بوټونو کی لمونځ کول صحیح نه دی. فقط (4)

---

(1) ولو صلی رافعا کمیه الی المرفقین کره (عالمګیری مصری الباب السابع فیمایفسدالصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۱۰۰، ط. ماجدیه ج۱ ص۱۰۲). ظفیر

(2) ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۹۸ ، ط. س. ج۱ ص۶۴۰. ظفیر

(3) وان صح بشرط کونه علی جبهته الخ وبشرط طهارة المکان وان یجد حجم الارض (درالمختار) تفسیره ان الساجد لو بالغ لا یتسفل رأسه ابلغ من ذالك فصح علی طنفسة وحصیر وحنطة وشعیر وسریر وعجلة ان کانت علی الارض الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل تالیف الصلوة ج۱ ص۴۲۸ ، ط. س. ج۱ ص۵۰۰). ظفیر

(4) والشرط الخ شرعا ما یتوقف علیه الشی ولا یدخل فیه هی ستة طهارة بدنه الخ من حدث بنوعیه الخ وخبث مانع الخ وثوبه الخ ای موضع قدمیه اواحدهما ان رفع الاخریٰ الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص۳۷۳ - ۳۷۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۰۲) ویفسدها الخ صلاته علی مصلی مضرب نجس البطانة .(ایضًا باب مایفسد الصلوة ج۱ ص۵۸۵ ، ط. س. ج۱ ص۲۲۲). ظفیر

په ناپاکه څپلیو کی دلمونځ ناجائز کیدل اوپر ناپاکه مزکه په پاکه کپړه غوړولو سره دلمونځ دجائزوالي وجه: **سوال**: (۱۵۵۴) که چیری پرناپاکه مزکه یا فرش باندی په پاکه کپړه غوړولو سره لمونځ کول جائز وی نودغه ډول دبُوټ په صورت کی جائز دی اوکه نه؟ ولی چه په بُوټ کی هم لوړه حصه پاکه ده او لاندی ناپاکه ده، په دی کی څه فرق دی؟

جواب: پرناپاکه جامه باندی که چیری پاکه جامه وغوړوی اولمونځ کوی نوصحیح دی، ولی چي دغه دواړي کپړی بیلی بیلی دی په خلاف دڅپلی، چه کله دهغه لاندی حصه ناپاکه ده نو دهغی سره لمونځ صحیح نه دی، ولی چه هغه دوې حصې دګنډلو په وجهی سره متصل سوی اویو سوی دی. (۱) فقط

دجومات په صحن کی په جَمعی سره لمونځ درست دی: **سوال**: (۱۵۵۵) دجُومات په صحن کی فرض لمونځ په جَمع سره دکراهت څخه بغیر دګرمی دزیاتوالی په وجهی سره کولی سی اوکه نه؟ زید وایی چه رسول الله ﷺ هیڅکله هم دجومات په صحن کی لمونځ نه دی ورکړی. دزید قول څومره صحیح دی؟

جواب: دزید داقول غلط دی، دجومات په دواړو حصو مُسقَّف او غیر مسقف (چت والا اوبی چته) کی جَمع جائز اوصحیح ده. اوفقهاؤ رحمهم الله مسجد صَیْفی او مسجد شِتایی دواړو ته مسجد ویلی دی اوپه دواړو کی جماعت بی کراهته صحیح دی او دا دواړه نومونه پخپله ددی دلیل دی چه په یوه حصه غیر مُسَقَّفه کی په دوبي کی اوپه بله حصه مُسَقَّفه کی په ژمی کی لمونځ کیږي. (۲) فقط

دباد په تیټک نیولو سره لمونځ اداء کول څنګه دی؟ **سوال**: (۱۵۵۶) زید دماپښین جَمع ورکول شروع کړل دیوه رکعت څخه وروسته یې هوا په خارجیدو سوه، خو هغه تیټګه ولرله او لمونځ یې پوره کړی. دا لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی لمونځ وسو، البته په دی کي کراهت دی. نوکه چیری دهغه زړه په دی تکلیف کی زیات مشغول وی نو دا کراهت به یې تحریمی وی کنې نو تنزیهی به وی. (۳) فقط

---

(۱) ویفسدها الخ صلاته علی مصلی مضرب نجس البطانة بخلاف غیر مضرب ومبسوط علی نجس ان لم یظهر لون او ریح (درالمختار) قوله مصلی مضرب ای مخیط الخ ومفهومه ان الاصح فی غیر المضرب الجواز اتفاقًا (ردالمحتار باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها ج۱ ص۵۸۵ ، ط. س. ج۱ ص۲۲۲). ظفیر

(۲) ولوکان المسجد الصیفی بجنب الشتوی وامتلأ المسجد یقوم الامام فی جانب الحائط لیستوی القوم من جانبه (ردالمحتار باب الامامة مطلب فی کراهة قیام الامام فی غیرالمحراب ج۱ص۵۳۱،ط.س. ج۱ص۵۲۸). ظ

(۳) ویباح قطعها لنحو قتل حیة الخ ویستحب لمدافعة الاخبثین (درالمختار) کذا فی مواهب الرحمٰن ونور الایضاح لکنه مخالف لماقدمناه الخزائن وشرح المنیة من انه ان ذالك یشغله ای یشغل قلبه عن الصلاة =

دنصاریٰ قوم په مستعملو جاموکی لمونځ کیږي اوکه نه؟ سوال: (۱۵۵۷) دنصاریٰ قوم په مستعملو جامو کی لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: دقوم نصاریٰ وغیره په مستعملو جامو کی فقهاؤ لمونځ کول جائز لیکلی دی. ماسوا دلنګ اوپرتوګ څخه ځکه چه دهغو دنجس والی غالب ګمان دی. وکذا فی الشامی (١) ، او مینځل دهری جامی احوَط دی، خاصکر دلنګ اوپرتوګ مینځل زیات ضروری دی. فقط

په ریشمی جاموکی لمونځ کول څنګه دی؟ سوال: (۱۵۵۸) چه ریشمی جامی واغوندی یا وی غوړَوی او لمونځ پرکوی نو لمونځ[اداء کیږی او که اعاده یې واجبه ده؟ دیوه اهل علم بیان دی چه لمونځ خوکیږی لیکن دغه سړی ګنهګاردی. لکه یوسړی چې دسرو زرو یا دشرعی مقدار څخه زیاته دزرو دګوتمې. یابل څه لکه کالی سره لمونځ کوی نو لمونځ به اداء سی لیکن ددغه ناجائز استعمال ګناه به یې پرسَر وی. همدغه شان که چیری یو لباس یاپرتوګ وغیره دبجلکو څخه کښته وی نو دداسی سړی لمونځ به وسی اوکه نه؟ بل داچه دریشمی جامی والا یا اوږد پرتوګ والا لکه اهلِ عرب وغیره یاجُبه یاعَبا وغیره دومره اوږده اغوندی چه دمزکی سره لګیږی، یا دزرو اغوستنکی یا دریره خریلی امامت درست دی اوکه نه؟ اوددی علم څخه وروسته به مقتدیان خپل لمونځ راګرځوی اوکه نه؟ خاصکر په داسی صورت کی به دجُمعی اواخترونو دلمونځ اعاده څنګه کوی حال دا چه ډیر خلق دسلام څخه وروسته خپاره سی؟

جواب: ریښمی جامه اغوستل حرام دی. نوکم لمونځ چه په هغه ریشمی جامو کی وکړی سی هغه مکروه او واجب الاعاده سو (٢) اوچه وی غوړَوی اولمونځ پرکوی نو دافقهاؤ جائز لیکلی دی. كما فی رد المحتار بخلاف الصلوة على السجادة منه ای من الحرير لان الحرام هو اللبس دون الانتفاع (٣) الخ بیایی په دی کی دحموی څخه روایت دکراهت هم نقل کړی دی اګر چه هغه ته یې مرجوح ویلی دی. بهر حال احتیاط دادی چه پر وریښمو

= وخشوعها فاتمها يأثم لادائها مع الكراهة التحريمية ومقتضى هٰذا ان القطع واجب لا مستحب الخ (رد المحتار باب مايفسد الصلوة وما يكره فيها ج١ ص٢١٢ ، ط. س. ج١ ص٢٥٤). ظفير

(١) ثياب الفسقة واهل الذمة طاهرة (در المختار) قال فى الفتح وقال بعض المشائخ تكره الصلوة فى ثياب الفسقة لانهم لايتقون الخمور قال المصنف يعنى صاحب الهداية الاصح انه لايكره لانه لا يكره من ثياب اهل الذمة الا السرائيل مع استحلالهم الخمر فهذا اولى اهـ (رد المحتار قبيل كتاب الصلوة ج١ ص٣٢٤ ، ط. س. ج١ ص٣٥٠). ظفير

(٢) لان الصلوة فى الحرير مكروهة للرجال (شرح حموي على الاشباه والنظائر ص ١٩٧). ظفير

(٣) رد المحتار باب الامامة ج١ ص ٥٢٥ ، ط. س. ج١ ص ٥٢٢. ظفير

باندی لمونځ نه کوی لیکن که یې وکړی نواعاده به یې واجب نه وی. اوچې دچا لباس خلافِ شرع وی یا ږیره یې خریلې وی نو امامت دهغه مکروهه دی په وجه دفاسق کیدلو دامام. اوپه درمختار کی دی: صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة الخ افاد ان الصلٰوة خلفهما اولی من الانفراد (١) الخ شامی. اودجُمعی او اخترونو په لمونځونو کی په واجب پریښودلو سره دسجده سهوی حکم (٢) نه کول ددی خبری تقاضا کوی چه اعاده ددی په صورتِ مذکوره کې لازمه نه ده. فقط

دبجلکو ښځه په کښته پرتوګ کی لمونځ اداء کول څنګه دی؟ سوال: (١٥٥٩) په لمانځه کی دبجلکو ښځه کښته پرتوګ ساتل څنګه دی؟

جواب: په لمانځه کی دبجلکو ښځه کښته په پرتوګ زړولو سره لمونځ کول مکروهه دی، دثواب ښځه به محرومه وی. دلمونځ ښځه علاوه یې هم تربجلکو لوړ ساتل ضروری دی. په حدیث کی دداسی سړی دپاره ډیر وعید راغلی دی. (٣) فقط

په محراب کی لمونځ جائز دی که نه؟ سوال: (١٥٧٠) په محراب کی لمونځ کول جائز دی او که نه؟

جواب: جائز دی. (٤)

په نقش اونګار والا مصلی باندی لمونځ جائز دی اوکه نه؟ سوال: (١٥٧١) که چیری پر یوه مصلّی یاجای نماز باندی نقشه دیو روضی یاجومات دخانه کعبی یا مدینی منوری وی اوپه هرحالت کی پیشِ نظر وی نو پرهغی باندی پنج وخته لمونځ اداء کول څنګه دی؟

جواب: لمونځ اداء کیږی (٥) لیکن دنقش اونګار مخ ته راتلل ښه نه دی. (٦) فقط

په خیرنو جاموکی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال: (١٥٧٢) امام سره دموجودوالي دنورو

---

(١) رد المحتار باب الامامة ج١ ص ٥٢٥ ، ط. س. ج١ ص ٥٧٢. ظفیر

(٢) والسهو فی صلٰوة العید والجمعة والمکتوبة والتطوع سواء والمختار عندالمتاخرین عدمه فی الاولین (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٥ ، ط. س. ج٢ ص٩٢). ظفیر

(٣) عن ابی هریره ﷺ قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ماسفل من الکعبین من الازار فی النار، رواه البخاری (مشکوٰة کتاب اللباس). ظفیر

(٤) یعنی دمقتدی منفرد دپاره جائز دی لیکن دامام دپاره مکروه دی. وکره الخ قیام الامام فی المحراب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوٰة ومایکره فیها ص٢٠٤ ، ط. س. ج١ ص٦٤٤). ظفیر

(٥) او لغیر ذي روح لا یکره لانها لا تعبد (درمختار) لقول ابن عباس للسائل فان کنت لابد فاعلا فاصنع الشجر وما لا نفس له رواه الشیخان (ردالمحتار باب ما یفسد الصلاة ومایکره فیها ج١ ص٢٠٧ ، ط. س. ج١ ص٦٤٩). ظفیر

(٦) ولا باس بنقش خلا محرابه فانه یکره لانه یلهی المصلی (درالمختار) فیخل بخشوعه من النظر الی موضع سجوده ونحوه ویکون منتهی بصره الی موضع سجوده الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلوٰة ومایکره فیها مطلب حکام المسجد ج١ ص٢١٢ ، ط. س. ج١ ص٦٥٨). ظفیر

جاموډيري خيرنی جامی استعمالوی، په هغه پسی په لمونځ کولوکی څه نقص خونسته؟
جواب: لمونځ دهغه صحيح دی، ليکن جامه پاکه پکار ده. ([1])

په ورکشاپ کی دممانعت باوجود لمونځ کول څنګه دی؟ **سوال**: (١٥٢٣) موږ خلق دريل په ورکشاپ کی نوکران يُو موږ په پټه دماپښين لمونځ اداء کوو ليکن دافسر حکم دادی چه څوك لمونځ کوی هغه دی نيمه ګينټه چوټی واخلی او بهر دی لمونځ کوی، په ورکشاپ کی لمونځ کونکی به دسزا مستحق وی. په دی صورت کی څه حکم دی ؟
جواب: کله چي حاکم په ورکشاپ کی لمونځ کول منع کړی دی او دايی ويلی دي نو په رخصت اخستلو سره دباندي لمونځ کول پکاردی، ولی چي دا داسی دی لکه په غصب سوی مزکه کی لمو نځ کول، اوهغه مکروهه وی. نوولی دی خپل لمونځ مکروه کړل سی، ([2]) دباندي دی ولاړ سی او لمونځ دي وکړی. اوبيا ورسره دسزا بيره هم سته. فقط

چه لمونځ ګزار زيات وی نو په دروازه کی دريدل درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (١٥٢٤) په رمضان کی دلمونځ ګزارو دزياتوالی اودجومات دفرش دکموالی په وجهی سره که امام دجومات په دروازه کی دريږی او لمونځ ورکوی نو جائز دی اوکه نه؟
جواب: په دروازه کی دامام دريدل يې په شامی کی مکروهه ليکلی دی، او دامام اعظم رحمه الله داقول يې نقل کړی دی. په دی وجه امام ته پکاردی چه که چيری دمقتديانو دزياتوالی له کبله په دروازه کی دريدلو ته اړ سی نو پښې دی ددروازې څخه دباندي کښيږدی او سجده دی دننه وسی، که چيری داسی وسی نو بهتره ده کنې دضرورت په وجه په دروازه کی په دريدلو او لمونځ ورکولو سره هم لمونځ کيږی ليکن ددی څخه ځان ساتل بهتردی. ([3])

چه دمارغه پرتصوير باندی بله کپړه وغوړوی او لمونځ وکړی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟
سوال: (١٥٢٥) پرکم جای نماز چه دمرغه تصويروی پرهغه باندی چه بل ټوکر واچوی او

([1]) الشرط لغة العلامة الخ وشرعًا مايتوقف عليه الشی الخ هی الخ وثوبه (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب شروط الصلوة ج١ ص٣٧٣ ، ط. س. ج١ ص٤٠٢) ليکن فقهاؤ دوسعت په وخت کی په داسی جاموکی لمونځ کول مکروه تنزيهی ليکلی دی: کره کفه الخ وصلاته فی ثياب بذلة يلبسها فی بيته ومهنته ای خدمته ان له غيرها والاّ ، لا، (ايضًا باب مايفسد الصلوة ج١ ص٥٩٩ ، ط. س. ج١ ص٦٤٠). ظفير
([2]) وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة الخ وارض مغصوبة وللغير (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة ج١ ص٣٥٤). ظفير
([3]) وقيام الامام فی المحراب لاسجوده فيه وقدماه خارجه لان العبرة للقدم مطلقا (در المختار) وفی حاشية البحر للرملی الذی يظهر من کلامهم انها کراهة تنزيهة (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايکره فيها ج١ ص٦٠٤ ، ط. س. ج١ ص٦٤٥). ظفير

لمونځ پر کوی نو جائز دی او که نه؟

جواب: په دی صورت کی لمونځ جائز دی بی دکراهت څخه. [1] فقط

په بوټو کی لمونځ جائز دی که نه؟ سوال: (١٥٢٢) په بوټو کی لمونځ جائز دی او که نه؟

جواب: په در المختار کی یې په بوټو کی دلمونځ کولو په باره کی دالیکلی دی چه که چیری بوټ پاك وی نو په هغه کی لمونځ کول جائز دی، بلکه افضل دی او علاّمه شامی پردی باندی داحدیث نقل کړی دی (صَلُّوْا فِيْ نِعَالِكُمْ وَلاَ تَشَبَّهُوْا بِالْيَهُوْدِ)، [2] لیکن په آخرکی یې دعمدة المفتی څخه دانقل کړی دی چې: اِنَّ دخولَ المسجد متنعّلاً مِن سوء الادب [3] یعنی جومات ته دبوټ سره تلل په دی زمانه کی ښه نه دی. اودا ظاهره ده ځکه چه په دی زمانه کی خلق احتیاط نه کوی ممکنه ده چه پرڅپلیو باندی به پلیتی لګیدلی وی، او اکثره داسی کیږی. کما هو مشاهد، البته که چیری څپلی یقینًا پاکی وی لکه نوی څپلی نو په دی زمانه کی دهغو سره په لمونځ کولو کی هیڅ حرج نسته بلکه بهتردی کما صرّح به الفقهاء وورد فی الحدیث. فقط

دلمونځ څخه وروسته دُعاء او په هغه کی ددَارکَ اضافه: سوال: (١٥٢٧) امام دفرضو څخه وروسته دُعا په داشان کوی (اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْكَ السَّلاَمُ الخ وَاَدْخَلْنَا دَارَكَ السَّلاَمَ) الخ لفظ د دَارَكَ ویل درست دی او که نه؟

جواب: د: دَارَكَ لفظ ثابت نه دی، داویل نه دی پکار. صرف (وَاَدْخِلْنَا دَارَ السَّلاَمِ) ویل پکار دی. فقط

دجَمعی څخه وروسته څرنګه دُعاء وغوښتل سی؟ سوال: (١٥٢٨) دجَمعی څخه وروسته به امام او مقتدیان په شریکه دُعا غواړی او که جلا جلا ؟ او که یوځای وغواړی نوصرف دیو واری دُعا غوښتلو څخه وروسته به پرمخ باندی لاسونه راتیروی او که دری۳ واری؟

جواب: امام چې څه وخت دلمونځ څخه فارغ سی نو سره دمقتدیانو دی ټول په شریکه دُعاء وغواړی بیادی سُنت اونفل وکړی او خپل کاروبار ته دی ولاړ سی دوباره او دریم بار دُعا په ذکر سوی طریقی سره غوښتل ثابت نه دی. او مقتدیان مقیَّد ساتل تر دویمی او دریمی دُعا پوری جائز نه دی. فقط

---

[1] واختلف فیما اذا کان التمثال خلفه والاظهر الکراهة ولایکره لو کان تحت قدمیه او محل جلوسه لانها مهانته الخ او علی خاتمه بنقش غیر مستبین قال فی البحر ومفاده کراهة المستبین لا المستتر بکیس او سرة او ثوب آخر (در المختار) بان کان فوق الثوب الذی فیه صورة ثوب ساتر له فلا تکره الصلاة فیه لاستتارها بالثوب (ردالمحتار باب مایکره فی الصلوة ج١ ص ٢٠٢ – ٢٠٧، ط. س. ج١ ص٢٤٨). ظفیر

[2] ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب احکام المسجد ج١ ص٦١٥، ط. س. ج١ ص٦٥٧. ظ

[3] ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب احکام المسجد ج١ ص٦١٥، ط. س. ج١ ص٦٥٧. ظ

دپان او چايو څخه وروسته دخولي پرېوللو څخه بغير لمونځ کول څنګه دي؟ سوال: (١٥٦٩)
که یو سړی دچایي څښلو یاپان خوړلو څخه وروسته دومره وخت ودريږي، چه دپان او چايو اثر ولاړ سي نو دخولي پرېوللو څخه بغير لمونځ کولی سي او که نه؟ اوکه ضرورت دمضمضی سته؟

جواب: خوله پرېولل بياهم بهتردی اوکه يې نه ومينځی نو هم به لمونځ وسی. (١) فقط

دامام دقتليدلو په وخت کې مقتديان نيت ماتولی سی اوکه نه؟ سوال: (١٥٧٠) که چيری دجَمعي په حالت کی دښمن راسی اوامام قتلوی نو مقتديان نيت مات کړی او دښمن ونيسی اوکه څه وکړی؟

جواب: حنفي فقهاؤ ليکلی دی چه داِحياء نفس (ديو نفس دژوند دخوندي کولو) دپاره لمونځ ماتول واجب دی. په شامي او در المختار کی دی: ويجب القطع لإنجاء غريقٍ او حَريقٍ (٢) الخ لهٰذاپه صورتِ مسئوله کی لمونځ ماتول اودامام ساتل پکاردی. او دحضرت عمرﷺ دشهادت قصه په لمانځه کی معروفه ده. اودحديثو په کتابونوکی ذکر سوی دی چه مقتديانو صحابه ؤ ﷺ بل صحابی امام کړی اولمونځ يې پوره کړی او بعضی صحابه ؤ ﷺ لمونځ مات کړی او قاتل يې ونيوی. فقط

دبجلکي څخه په ګښته لنګ يا پرتوګ سره لمونځ مکروهه دی: سوال: (١٥٧١) که چيری پرتوګ دبجلکی څخه ګښته وی نو په دې سره لمونځ مکروهه دی اوکه نه؟

جواب: مکروهه (٣) دی. فقط

صرف په لنګ کی لمونځ درست دی: سوال: (١٥٧٢) يو سړی وس لرونکی حاجی دی او دګرمی په موسم کی پنځه وخته لمونځ په يوه لنګ کی کم چه دزنګونانو څخه دوې ګوتی ګښته وی او ديوبل څادرسره لمونځ کوی. بعضی وخت لمونځ صرف په همدغه لنګ کی کوی. نو دهغه لمونځ کيږی اوکه نه؟

جواب: چي صرف په همدغه لنګ کی کوی نودهغه لمونځ کيږی (٤) خو بهتره داده چه په

---

(١) قال اتی رسول الله ﷺ بخبز ولحم وهو في المسجد فأكل وأكلنا معه ثم قام فصلى وصلينا معه ولم نزد على ان مسحنا ايد ينا بالحصبآء رواه ابن ماجة (مشكوٰة كتاب الاطعمه ص٣٦٢) بالحصباء اى بالحجارات الصغار استعجالا للصلوة او بيانا للجواز (مرقاة ج٤ ص ٣٧٩). ظفير

(٢) الدرالمختار على هامش رد المحتار باب ادراك الفريضة ج١ ص٦٢٢، ويجب (قطع الصلوة) لاغاثة ملهوف وغريق وحريق (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة الخ ج١ ص٦١٣ ، ط. س. ج١ ص٦٥٤). ظفير

(٣) قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ماسفل من الكعبين من الازار فى النار رواه البخارى (مشكوٰة كتاب اللباس ص ٣٧٣) لان الصلوة فى الحرير مكروهة للرجال (الاشباه والنظائر ص١٩٧). ظفير

(٤) والرابع ستر عورته الخ وهى للرجل ما تحت سرته الى ماتحت ركبتيه (الدرالمختارعلى هامش رد المحتار =

صورت داستطاعت کی دلنګ او څادر یاقمیص اوپرتوګ اوخولۍ یاخولۍ او لنګوټه دواړو سره لمونځ وکړی داغوره دی. (1) فقط

دریښمی پرتوګاښ سره لمونځ درست دی که نه؟ سوال: (١٥٧٣) ریښمی کپړه سړی ته حرامه ده او لمونځ ورسره مکروه دی، غایة الاوطار جلد اول ص١٩٠، لیکن په فتاویٰ هندیه څلورم جلد کی یې لیکلی دی چه که چیری دوریښمو دپرتوګاښ سره لمونځ وکړی نو جائز دی مکروهه به نه وی لیکن اغوستونکی به دګناه مرتکب وی؟

جواب: داخو ظاهره ده چه وریښمی جامه سړی لره اغوستل حرام دی، اوپه دی سره لمونځ به هم مکروهه وی (2) اوپه فتاویٰ هندیه کی یې غالبًا دلمونځ بی کراهته جواز ددی دپاره لیکلی دی چه دبعضو په نزد دوریښمو پرتوګاښ جائز دی کذا فی الدرالمختار: وتکره التکة منه ای من الدیباج هو الصحیح وقیل لاباس به الخ وفی الشامی عن التتارخانیه ولاتکره تکة الحریر لانها لاتلبس وحدها، وفی شرح الجامع الصغیر لبعض المشائخ لاباس بتکة الحریر للرجال عند ابی حنیفة وذکر صدر الشهید انه یکره عندهما (3). ددی روایت څخه یوه وجه دتطبیق هم معلومه سوه، چه صاحب دغایة الاوطار به دصاحبینو قول اخستی وی اوپه فتاویٰ هندیه کی به یې دامام صاحب قول اختیار کړی وی. ددی څخه علاوه په غایة الاوطار کی یې دوریښمو کپړه لیکلی ده دپرتوغاښ سره یې بحث نه دی کړی. دکمربند (پرتوغاښ) په کراهت کی اختلاف دی. کمامرّ. فقط

پرسرکاری کاغذ یاسرکاری بکس باندی لمونځ: سوال: (١٥٧٤) که چیری یوسړی دسرکاری دفتر څخه کاغذ یا دلرګی بکس بی اجازته راوړی اوپرهغه باندی جای نماز وغوړوی او لمونځ پرکوی نو لمونځ به یې ادا سی اوکه نه؟

جواب: لمونځ ورباندی صحیح دی خومکروه دی. کما فی الارض المغصوبة (4)، او اعاده یې واجبه نه ده. فقط

= باب شروط الصلوة ج١ ص٣٧٤ ، ط. س. ج١ ص٤٠٤). ظفیر

(1) والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولوصلی فی ثوب واحدٍ متوشحا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المَقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسیر وجود الطاهر الزائد ولکٰن ترك الاستحباب (غنیة المستملی ص٣٣٧). ظفیر

(2) لان الصلوة فی الحریر مکروهة للرجال بخلاف الصلوة فی الثوب النجس فانها غیر صحیة (الاشباه والنظائر فن ثانی کتاب الصلوة ص١٩٧). ظفیر

(3) ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی اللبس ج٥ ص٣١٠ ، ط. س. ج١ ص ٣٥٣ - ٣٥٤ . ظفیر

(4) وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة الخ وارض مغصوبة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلوة ج١ ص٣٥٤ ، ط. س. ج١ ص ٣٧٩ - ٣٨١). ظفیر

دڅلورو آنو په نقصان باندی لمونځ ماتول څنګه دی؟ سوال: (۱۵۷۶) که دڅلورو آنو نقصان کیږی نو لمونځ ماتول بی معصیته جائز دي اوکه نه؟

جواب: په درالمختار کی دی چه دیوه درهم مقدار په نقصان کیدلو باندی لمونځ ماتول درست دی اودرهم څلورو آنو ته نز دی وی. اوشامی دبعضوفقهاؤ څخه تردی پرکم باندی هم دلمونځ ماتولو جواز نقل کړی دی. لیکن عام مشائخ پرهمدی خبره دی چه دڅلورو آنو په نقصان باندی قطع کولی سی. (۱) فقط

چه دننه ځای نه وی نو په دروازوکی دریدل څنګه دی؟ سوال: (۱۵۷۷) په جومات کی دننه دصفونو پوره کولو څخه وروسته په دروازو کی دری ۳ یاڅلور لمونځ ګزار یو ځای سی ودریږی، په دی صورت کی چه کم لمونځ ګزار په دروازو کی ودریږی دهغوی لمونځ بی کراهته جائز دی اوکه مکروه؟

جواب: دفقهی په کتابونو کی لیکلی دی چه په دروازه کی لمونځ کول مکروهه دی لیکن که چیری دلمونځ ګزارو درش په وجه لکه څنګه چه دجُمعی په ورځ کیږی که یوڅو یوڅو سړی په دروازوکی کم چه فراخه دی ودریږی نودضرورت په وخت کی په دی کی څه حرج نسته اوپه لمونځ کی خلل نه راځی. (۲) فقط

دسرو زرو په سَلیِ کی لمونځ مکروه دی: **سوال**: (۱۵۷۸) دسروزرو په سَلیِ کی لمونځ کول څنګه دي؟

جواب: دسرو زرو ګوتمیِ او سَلیِ اغوستل هروخت دسړیانو دپاره حرام دی، کما في الحديث: نهٰی رسول الله ﷺ عن خاتم الذهب، الحديث (۳) نو کله چي دسرو زرو سلیِ اچول دنارینه ؤ لپاره په هروخت کي حرام دي، نو په لمونځ کی هم حرام دی او لمونځ سره

---

(۱) ويباح قطعها لنحو قتل حيّة وند دابة وفَور قِدر وضياع ما قيمته درهم له اولغيره (در المختار) قال فى مجمع الروايات لان ما دونه حقير فلا يقطع الصلاة لاجله لكن ذكر فى المحيط فى الكفالة ان الحبس بالدانق يجوز فقطع الصلاة اولى هٰذا فى مال الغير اما فى ماله يقطع والاصح جوازه فيهما اهـ وتمامه فى الامداد والذى مشى عليه فى فتح القدير التقييد بالدرهم (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج۱ ص۲۱۲، ط. س. ج۱ ص۲۵۴). ظفير

(۲) وقيام الامام فى المحراب لا لسجوده فيه وقدماه خارجه لان العبرة للقدم مطلقا الخ وانفراد الامام على الدكان الخ وكره عكسه فى الاصح وهٰذا كله عندعدم العذر لجمعة وعيد فلو قاموا على الرفوف والامام على الارض اوفى المحراب لضيق المكان لم يكره (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار باب مايكره فيها ج۱ ص۲۰۴ - ۲۰۵ ، ط. س. ج۱ ص ۲۴۵ - ۲۴۲. ظفير

(۳) عن علي ﷺ قال نهٰى رسول الله ﷺ عن لبس القسي والمعصفر وعن تختم للذهب الخ رواه مسلم (مشكوٰة باب الخاتم ص ۳۷۸). ظفير

دکراهته ادا کيږي يعنی لمونځ کيږي خو مکروهه (١) دی.

چه دځه ويلو څخه وروسته دامام څخه هيرسي، نو څه وکړي؟ سوال: (۱۵۷۹) کـه يوسـړی په جهر لمونځ کی څه قدر قرآئت ولوستی اومخ تـه ورڅخـه هيـر سـو. مقتـدی فـتح ورلـره ورکړه خوامام فتح وانه خسته. حتٰی چی په دويم بار او دريم بار باندی هم امام فتح وانه خسته بلکه لمونځ ئی مات کړی او دنوی سره ئی لمونځ پوره کړی. دامام دافعل جائز دی اوکه نه؟

آياپه دی صورت کی دنوی سره شروع کړی؟ سوال: (۱۵۸۰) کم سړی ته چی داسی صـورت وړپيښ سی نوهغه ته لمونځ ماتول او دنوی سره تحريمه کول پکاردی اوکه بل ايت اوبل صورت ته اوښتل پکاردی، يعنی په صورت دعدم قراءة ما يجوز به الصلاة؟

په پورته درج صورت کـی پرلمونځ مـاتولو بانـدی زور ورکـول غلـط دی: سوال: (۱۵۸۱) کـه چيری يوسړی په پورتنی صورت کی دلمونځ دفسخ کولـو اودنـوی سـره پرتحريمـه بانـدی زور ورکوی اوبل ايت اوصورت ته اوښتلو ته ناجائز وائـی او دلمـونځ پـه فـسخ کولـوکی هغه عبارت حجت نيسی کم چی دسهار دسنتونو سره تعلق لری: اذا خاف فوت الجماعـة يترکها، په پورتنی صورت کی داعبـارت دلمـونځ دفسخ کولـو دليـل جـوړول صـحيح دی اوکه نه؟

ديترکها څه معنٰی ده؟ سوال: (۱۵۸۲) په ذکر سوی عبارت کی د: يَتْرُکُهَا دا معنٰی ده چـه که چيری چا دجَمع (دريدو) څخه وروسته سُنت شروع کړل او دشروع کولو څخه وروسته ورسره دجَمعی فوت کيدلو بيره پيداسی، نو سُنت دی مات کړی اوپه جَمع کی دی شريك سی. لفظ د: يَتْرُکُهَا دواړو صورتونو ته شامل دی اوکه يوه صورت تـه اوکـم صـورت تـه. که چيری ثانی صورت ته شامل وی نو دحديث (لا تبطلوا اعمالکم) څه مطلب دی؟

جواب: (۱، ۲) امام لره په دغه صورت کی فتح اخستل پکار وه، يا ورلره دبل آيت ياسورة طرفته انتقال کول پکار وو. اوکه چيری په قدر د: مَا يَجُوْزُ بِهِ الصَّلٰوةُ، يا دمستحب پـه اندازه قرآئت سوی وو، نو رکوع کول پکار وو. لمونځ ماتول په داسی حالت کی فقهاؤ نه دی ليکلی. ردالمحتار، تتمه يکره ان يفتح من ساعة کما يکره للامام ان يلجئـه اليـه بـل ينتقل الی آية اخری لا يلزم من وصلها ما يفسد الصلوة والی سورة اخرٰی او يرکع اذا قرأ قدر الفرض کما جزم به الزيلعی وغيره فی روايتـه قـدر المستحب کمـا رجحـه الکمـال ؒ وفی الدرالمختار بخلاف فاتحه علی امامه فانه لايفسد مطلقًا لفاتح وآخذ بکل حالٍ ؒ

(١) لان الصلوة فی الحرير مکروهة للرجال (شرح حموی علی الاشباه والنظائر ص۱۹۷). ظفير

وفی الشامی قوله بکل حال ای سواء قرء الامام ما تجوز به الصلوٰة ام لا انتقل الی آیة اخری ام لا تکرر الفتح ام لا هو الاصح (١) نوکله چه فقهاؤ دومره وسعت په دی کی ایښی دی نوبیا لمونځ ماتول مناسب نه ؤ، اوپه حکم دایت په دی حالت کی لمونځ ماتول ممنوع ؤو.

(٣) دا خبره پورته واضحه سوه چه په داسی حالت کی فقهاؤ فتحه اخیستل یا انتقال اِلی آیَةٍ اُخرٰی او یا اِلی سُوْرَةٍ اُخریٰ جائز ګڼلی دی. نودی ته ناجائز ویل اولمونځ ماتول او پر دوباره پرتحریمه تړلو باندی زور ورکول دجهل په وجه دی. په شرعی مسائلو باندی عالم او فقیه داسی نسی ویلی، اودا احتیاط نه دی بلکه وهم دی او خطاده. اومذکوره عبارت په دی باره کی دلیل راوړل اودجواز صریح روایات اودفقهاؤ حکم پرېښول بل جهل دی. او دا استدلال غلط دی دیتْرُکُهَا دا معنٰی ده چه نه دی شروع کوی. دانه چه دشروع کولو څخه وروسته دی مات کړی. دشروع کولو څخه وروسته دقطع کولو ممانعت فقهاؤ په ډاګه لیکلی دی: والشارع في النفل لا یقطع مطلقا ویتمه رکعتین وکذا سنة الظهر وسنة الجمعة اذا اقیمت او خطب الامام یتمها اربعًا علی القول الراجح لانها صلوٰة واحدة ولیس القطع للاکمال بل للابطال خلافا کما رجحه الکمال (درالمختار) قوله خلافًا لما رجحه الکمال حیث قال وقیل یقطع علی رأس الرکعتین وهو الراجح الخ شامی (٢). فقط

دلمونځ ګزارو مخ ته په څومره فاصلی سره تیریدل پکاردي: **سوال**: (١٥٨٣) دجُمعی په ورځ اکثره سړی دلمونځ ګزارو مخ ته تیر یږی. آیاڅه فاصله هم مقرره ده چه ددغه فاصلی څخه تیریدل جائز دی؟

جواب: په لوی جومات کی که چیری په هغه ځای کي څوك تیر سي چي دلمونځ کوونکي نظر نه ورباندي لګیږي (په هغه صورت کي چي دلمونځ کوونکي نظر دسجدې پرځای وي) نو دلمونځ ګزار مخ ته که سړی تیرسی نو درست دی. او په کوچنی جومات کی کم چه ترلسو ١٠ لاسونو کم وی مخ ته تیریدل په هیڅ ځای کی هم درست نه دی. کذا فی الدر المختار. (٣) فقط

---

(١) رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٦٢٢ – ٦٢٣ . ظفیر

(٢) رد المحتار باب ادراك الفریضة ج١ ص ٦٢٨ ، ط. س. ج٢ ص ٥٣ . ظفیر

(٣) ولایفسدها نظره الی مکتوب الخ ومرور مار فی الصحراء وفی مسجد کبیر بموضع سجوده فی الاصح او مرور بین یدیه ای حائط القبلة فی بیت ومسجد صغیر فانه کبقعة واحدة مطلقًا الخ وان اثم المار لحدیث البزار ولو یعلم المار ماذا علیه من الوزر لوقف اربعین خریفا (درمختار) قوله مسجد صغیر وهو اقل من ستین ذراعًا وقیل من اربعین وهو المختار کما اشار فی الجواهر، قهستانی (ردالمحتار باب مایفسد الصلٰوة ومایکره فیها ج١ ص٥٩٣ ، ط. س. ج١ ص٦٣٤). ظفیر

دلمانځه څخه وروسته په لوړ آواز سره کلمه ویل څنګه دي؟ سوال: (۱۵۸۴) وعن عبدالله بن زبیر قال کان رسول الله ﷺ اذا سلم من صلٰوته یقول بصوته الاعلٰی لا اله لا الله، وحده لا شریك له له الملك وله الحمدوهو علٰی کل شی قدیر لاحول ولا قوة الا بالله ولا نعبد الا ایاه له النعمة وله الفضل وله الثناء الحسن لا اله الا الله مخلصین له الدین ولو کره الکافرون، رواه مسلم مشکوٰة شریف باب الذکر بعد الصلٰوة. یو سړی دلمونځ څخه وروسته دپورته لیکل سوی حدیث په موجب دری ۳ واری کلمه شریفه په لوړ آواز سره وایی، په دی باره کی څه حکم دی؟

جواب: عالمان په لوړ آواز سره کلمه طیبه دلمونځ څخه وروسته په خاص کیفیت سره دویلو څخه منع کوی ولی چه دا داخلِ بدعت شِعار سوی دی اواصل په داسی اذکارو کی چونکه په کرار ویل دی لکه څنګه چه وارد دی (اِنَّکُمْ لاَتَدْعُوْنَ اَصَمَّ وَلاَ غَآئِبَ) اودحضرت رسول ﷺ په لوړ آواز سره ویل دتعلیم په غرض ؤ. ددی وجه څخه نور خلق دجهر مُفْرِط څخه پرداسی موقع باندی بندیږی. او بهتره داده چه داټول کلمه ترآخره پوری وویل سی او آواز دی زیات لوړ نه کړل سی چه په هغه سره نورو لمونځ ګزارو اوذکر کونکی ته تکلیف ورسیږي. (۱)

په تصویر والاجامو کی لمونځ کیږي اوکه نه؟ سوال: (۱۵۸۵) تصویرکه پرجامی باندی وی نو ددغه جامی سره به لمونځ وسی اوکه نه؟

جواب: که دساه لرونکي شي تصویر ؤ نه کیږي اوکه دبی ساه شي وي نو وبه سی. (۲)

چه شمله زیاته وی نو ایا لمونځ مکروه تحریمی کیږی: سوال: (۱۵۸۶) لنګوټه تړل خومره سنت دی، او دهغې شمله پرېښوول خومره سنت دي؟ که چیری یې څوك ترکوناټو پوری پریږدی نو لمونځ مکروهِ تحریمی کیږی. په دی کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: په در المختار کی دی چه دلنګوټې شمله شاته پرېښول مستحب دی. اودشا تر مینځه پوری یې کیدل مستحب دی. اوبعضو ویلی دی چه یوه لویشت به وی. اودا ویل ددغه سړی چه که چیری دپاؤ باندی لویشت څخه زیاته شمله پریږدی نو لمونځ به مکروه

(۱) ویکره الاعطاء الخ ورفع صوت بذکر (درمختار) فتارة قال انه حرام وتارة قال انه جائز الٰی لانه حیث خیف الریاء اوتاذی المسلمین اوالنیام الخ (ردالمحتار مطلب رفع الصوت بالذکر ج۱ ص۲۱۸، ط. س. ج۱ ص۲۵۹). ظفیر

(۲) وکره الخ لبس فیه تمائیل ذی روح (مختار) ویاتی ان غیر ذی الروح لایکره (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۲۰۵، ط. س. ج۱ ص ۶۴۴ - ۶۴۷) قوله ولبس ثوب فیه تصاویر لانه یشبه حامل الصنم فیکره وفی الخلاصة وتکره التصاویر علی الثوب صلی فیه اولم یصل اه وهذه الکراهة تحریمیة (البحر الرآئق، باب مایفسد الصلاة وما یکره فیها ج۲ ص۷۲). ظفیر

تحریمی سی داغلط دی. شمله دشا ترمینځ پوری کیدل یایوه لویشت کیدل داټول دمستحبو أمورو څخه دی ددی خلاف مکروه تحریمی نه دی اوپه لمونځ کی هیڅ کراهت رانغی. دشملی په باره کی یو قول په در المختار کی داهم دی چه دناستی ترځای پوری دشملی کیدل مستحب دی. (1) ددی څخه معلومه سوه چه دملا تربیخ پوری یعنی دکوناټو تر شروع پوری دشملی کیدل هم مکروهه نه دی. خلاصه دا ده چه دا څومره اقوال چه دی داستحباب باره کی دی، باقی ګناه په هیڅ حال کی نسته که شمله کوچنی وی اوکه لویه. همدغه شان دلنګوټی داوږدوالی شرعًا هیڅ حدخاص نسته. دحضور ﷺ لنګوټه به کله دولس لاسه وه اوکله اووه لاسه، اونورو ته هغوی ﷺ دڅه خاص اوږدوالی حکم نه ؤو فرمایلی. نوڅرنګه چه عادت وی اوڅومره تړلو چي عادت وی ودی تړی، هیڅ وهم دی نه کوی. (2) فقط

په ریشمی جامه کی سوی لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال: (۱۵۸۷) بی دشرعی ضرورت څخه ریښمی جامه اغوستل سړی ته اولمونځ پکښي کول مکروه تحریمی دی اوکه مکروه تنزیهی اوپر اولنی تقدیر دلمونځ اعاده به واجب وی او که نه ؟

جواب: په ظاهره (لمونځ) مکروه تحریمی دی اواعاده يې واجبه ده کما من وجوب الاعادة بالصلٰوة فی ثوب فیه صورة بمنزلة من یصلی وهو حامل صنم (3) الخ ص۳۰۷ جلد اول فی بیان واجبات الصلٰوة. فقط

په خیرنو جامو کی لمونځ مکروه دی اوکه نه؟ سوال: (۱۵۸۸) خیرنی جامی او دتیر کال ګرمی جامی په ثیاب بَذله کی داخلی دی اوکه نه؟ او لمونځ به په دی کی جائز وی یا مکروه ؟

جواب: دغه جامی دخیرن والی په وجهی سره ثیابِ بذله نه سوی، هم دغه شان دتیرکال ګرمی جامی په ثیابِ بذله کی داخلی نه دی. لهٰذاپه هغی کی به لمونځ مکروه نه وی. (4)

---

(1) وندب لبس السواد وارسال ذنب العمامة بین کتفیه الی وسط الظهر وقیل لموضع الجلوس وقیل شبر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مسائل شتٰی ج۵ ص۲۲۰ ، ط. س. ج۱ ص۷۵۵). ظفیر

(2) ذکر فیه انه کان له صلی الله علیه وسلّم عمامة قصیرة وعمامة طویلة وان القصیرة کانت سبعة اذرع والطویلة اثنی عشر ذراعا (مرقاة المفاتیح، کتاب اللباس ج۴ ص۴۲۷). ظفیر

(3) ردالمحتار باب صفة الصلوٰة مطلب واجبات الصلاة ج۱ ص۴۲۲، ط. س. ج۱ ص۴۵۷، په شرح حموی کی دی: لان الصلاة فی الحریر مکروهة للرجال. ظفیر

(4) وصلاته فی ثیاب بذلة یلبسها فی بیته ومهنته ای خدمته ان له غیرها والاّ لا (درالمختار) وفسّرها فی شرح الوقایة بما یلبسه فی بیته لا یذهب به الی الاکابر والظاهر ان الکراهة تنزیهیة (ردالمحتار باب مایفسد الصلوٰة ومایکره فیها ج۱ ص ۵۹۹ ، ط. س. ج۱ ص۶۴۰). ظفیر

دلمونځ څخه وروسته چپه طرف ته په ګرځيدلو سره دُعا کول څنګه دي؟ سوال: (۱۵۸۹) زيد دمازديګر په لمونځ کی امام ؤ دسلام څخه وروسته يې چپه طرفته مخ کړی، او مناجات يې وکړل. داجائز دی که نه ؟

جواب: دکمو لمونځونو څخه وروسته چه سنت نسته لکه سهار او مازديګر په دی کی امام ته اختيار دی که راسته طرفته مخ کوی کښيني اوکه چپه طرفته، او دحديث شريف څخه دواړي خبری ثابتی دی او حنفی فقهاؤ هم په دواړو کی اختيار ورکړی دی. اوچپه طرف ته پرمخ کونکی باندی طعن (اواعتراض) کول جهالت دی ددينی مسائلو څخه. (۱) فقط

په لمونځ کی درحمت عالم ﷺ خيال راتلل او راوستل څنګه دي؟ سوال: (۱۵۹۰) که چيری په لمونځ کی درسول الله ﷺ خيال راسی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟. که يې چيری په لمونځ کی خيال راوستی نو څه حکم دی؟

جواب: کله چه په لمانځه کی پخپله په التحيات کی اودُرود شريف کی دحضور ﷺ ذکر دی نو خيال راتلل ضروری سوه. باقی لمونځ خالص عبادت دالله ﷻ دپاره دی، دغير الله خيال علی سبيل التعظيم والعبادة راتلل نه دي پکار. او لمونځ په هر حالت کی صحيح دی ولی چه پرخيال باندی سوال اوجواب نسته. (۲) فقط

په محراب کی دلمونځ ګزار يوازي لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال: (۱۵۹۱\۱) په محراب کی ديوازی لمونځ ګزار لمونځ درست دی اوکه نه؟

په محراب کی ودريدی امامت يې وکړی نو لمونځ وسو اوکه نه ؟ سوال: (۱۵۹۲\۲) په مذکور محراب کی که چيری امام ودريږی او لمونځ ورکړی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

په محراب کی به دمقتدی لمونځ وسی اوکه نه؟ سوال: (۱۵۹۳\۳) په مذکور محراب کی به دمقتدی لمونځ وسی اوکه نه؟

امام په څو مره لوړوالی کی امامت کولی سی؟ سوال: (۱۵۹۴\۴) امام چه په څومره لوړوالي کی ودريږی نو امامت کولی سی؟

(۱) وخيّر فی المنية بين تحويله يمينا وشمالا واماما وخلفا وذهابه لبيته واستقباله الناس بوجهه ولودون عشرة مالم يکن بحذائه مصلی ولو بعيدا علی المذهب (درمختار) لکن التخيير الذی فی المنية هو انه ان کان فی صلاة تطوع بعدها فان شاء انحرف عن يمينه او يساره اوذهب الی حوائجه اواستقبل الناس بوجه الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۹۲ ، ط. س. ج۱ ص۵۳۱). ظفير

(۲) عن ابی هريرة ﷺ قال قال رسو الله ﷺ ان الله تجاوز عن امتی ما وسوسوت به صدرها ما لم تعمل به او تتکلم متفق عليه (مشکوٰة باب فی الوسوسه ص۱۸). ظفير

امام پر ځومره لوړوالی باندی دریدی سی؟ سوال: (۱۵۹۵\۵) دصحن دتنګوالی په عُذر یا دځنګل وغیره مزکي دنابرابري کیدلو په وجه امام ترځومره لوړوالی پوری دریدی سی او لمونځ ورکولی سی کم چه مکروهه نه وی ؟

په قصد سره دمکروه ارتکاب په لمونځ کی ښتکه دی؟ سوال: (۱۵۹۶\۶) که چیری په قصد سره په لمونځ کی دمکروه فعل ارتکاب وکړی نو لمونځ کیږی اوکه نه؟ او ګنهګاریږی او که نه ؟

دیو مولوی فتوٰی: **سوال**: (۱۵۹۷\۷) مولوی اشرف علی صاحب سلمه تحریر فرمایلی دی، چه امام ته دومره لوړ دریدل مکروهه دی، چه کتونکی ته لوړ معلومیږی؟

په ځومره لوړوالی سجده کولی سی؟ سوال: (۱۵۹۸\۸) که چیری دمقتدی دسطحی سره برابر امام ودریږی او سجده په لوړوالی باندی کوی نو دهغه دپاره دځومره لوړوالی اجازت دی، دامام څخه مقتدیان پر ځومره لوړوالی باندی دریدی سی؟

مقتدی ترامام لوړ دریدی سی که نه؟ سوال: (۱۵۹۹\۹) ترامام مقتدیان په ځومره لوړوالی باندی دریدی سی؟

چه امام یوه لویشت لوړ ولاړ وی، نو څه حکم دی؟ سوال: (۱۶۰۰\۱۰) که چیری دجومات ددروازی چَوکاټ یاکرسی یا چوتره تریوی لویشتي کم لوړ وی نوپرهغه باندی په دریدلو سره امام امامت کولای سی اوکه نه ؟

چه تکبیرونه او سلام دامام سره ونه کړی او مخکی ختم کړی ، نو څه حکم دی؟ سوال: (۱۶۰۱\۱۱) تکبیر تحریمه یا نور تکبیرونه یا دواړه سلامونه دلمونځ دختمیدلو یا دسجده سهوی سلام چي شروع خو کړل سی دامام سره یعني ترامام لږ وروسته لیکن ختم سی دامام څخه مخکی نو دمقتدی لمونځ به وسی او که نه؟

کم مقتدی چه دامام څخه مخکی رکوع او سجده کوی دهغه لمونځ کیږی او که نه ؟ سوال: (۱۶۰۲\۱۲) که چیری مقتدی دامام څخه مخکی رکوع یا سجده یا قومه وغیره وکړی نو دمقتدی لمونځ به وسی اوکه نه؟ اودامام څخه مخکی دسجده کوونکی مقتدی سر به دخره په شان کیږی اوکه نه؟

دخوب په غلبه کی په امام پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۶۰۳\۱۳) که چیری په لمانځه کی مقتدی په امام پسی په رکوع، سجده، قومه، قیام، قعده وغیره کی دخوب دوجهي څخه کوږ کوږ کیږي نو په دی صورتونو کی دمقتدی لمونځ کیږی اوکه نه؟

چه مقتدی دلمونځ دختمیدلو څخه مخکی سلام وګرځوی، نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۶۰۴\۱۴) که چیری مقتدی دلمونځ دختمیدلو څخه مخکی سلام وګرځوی، او فوراً

دوریادیدلو څخه وروسته دخبرو کولو څخه بغیر لمونځ دامام سره پوره کړی نولمونځ به وسی اوکه نه؟

دخوب په غلبه کی لمونځ اداء کړی اوکه یې پریږدی؟ **سوال**: (١٢٠٥\١٥) دخوب په غلبی یا ارږمي کی دلمونځ څه حکم دی، اداء یې کړی اوکه یې پریږدی؟

که په لمونځ کی خارښت وربانديی راځي نو څه وکړی؟ **سوال**: (١٢٠٦\١٦) چي په لمونځ کی خارښت ځوواری دلاس په واسطه په ګرولو سره دفع کړل سی، یا دپزی څخه ځو واری (عطس) پریچی وایستل سی، اودری واری داسي وکړل سي نو دلمونځ مفسد خونه دی؟

که چیری قومه په اطمینان سره ونه کړی نو څه حکم دی ؟ **سوال**: (١٢٠٧\١٧) چه په لمونځ کی قومه او جلسه په اطمینان سره په ښه ډول ونه کړی سی نو ددغه لمونځ څه حکم دی؟

چه نکریزی ولګوی نو لمونځ درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (١٢٠٨\١٨) چه سړی نکریزی ولګوی اوپه ناسته لمونځ کوی نو جائزدی اوکه نه؟

په بندو موټانو سره لمونځ: **سوال**: (١٢٠٩\١٩) چه په لاسونو نکریزی پوری کړی اوپه بَندو مُوټو سره لمونځ کوی نو جائز دی که نه؟

جواب: (١) درست دی.

(٢) لمونځ به وسی خو دامام دا فعل مکروه دی، اوپه لمونځ کی به کراهت وی.

(٣) وبه سی. (مثل مقصورة دمشق التی هی فی وسط المسجد خارج الحائط القبلی یکون الصف الاول بینهما مایلی الامام فی داخلها وما تصل به من طرفیها خارجا عنها من اوّل الجدار الی آخره فلا منقطع الصف بیناتها کما لا ینقطع بالمنبر الذی هو دخلها شامی ج١ص **٥٩٥** جمیل الرحمٰن).

(٤) په درمختار کی دی: وانفرد الامام علی الدکان للنهی وقدر الارتفاع بذراع ولا باس بما دونه وقیل مایقع به الامتیاز وهو الاوجه ذکره الکمال (درمختار) علاّمه شامی په دی باندی لیکلی دی قوله: وقیل هو ظاهر الروایة قال فی البحر والحاصل ان التصحیح قد اختلفت والاولی العمل بظاهر الروایة واطلاق الحدیث وکذا رجحه فی الحلیة ([١]).

دنهی حدیث دادی قوله للنهی وهو ما اخرجه الحاکم انه ﷺ نهی لن یقوم الامام فوق ویبقی الناس خلفه الخ شامی. ([٢]) نو معلومه سوه چه په یوه روایت کی دیوه لاس په

([١]) و([٢]) رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص٢٠۴ – ٢٠٥، ط. س. ج١ ص٦۴٢. ظفیر

لوړوالی باندی دامام دریدل مکروهه دی او ظاهر روایت دادی چه په دومره اندازه کی لوړیدل په کم سره چه امتیاز وی اودلیری ځخه کتونکی یې لوړ ګڼي مکروهه دی لکه څنګه چه مولانا اشرف علی صاحب تحریر فرمایلی دی. په بحر کی یې فرمایلی دی چه په دی باندی عمل اولٰی دی ځکه چه داظاهر الروایة دی اودحدیث مقتضیٰ هم دغه ده. بیا وړاندی په درمختار کی دی: وهٰذا کله عند عدم العذر کجمعة وعید فلو قاموا علی الرفوف والامام علی الارض او فی المحراب لضیق المکان لم یکره ([1]) ددی ځخه معلومه سوه چه که چیری عُذروی نوامام لره پرلوړ ځای باندی دریدل درست دی اګر چه لوړوالی ممتاز وی یادذِرَاع په اندازه وی. لیکن عُذر اِزدحام دخلګو اوتنګوالی دمکان دی. لمر اوسایه عُذرنه دی. ددی تقریر اوددکر سوو عبارتونو ځخه ستاسو دسوالونو جواب حاصل سو.

(۵) دومره لوړ دي نه دریږی چه امتیاز حاصل سی او مقدار ددی یوذارع دی، په عُذرکی چه امام پر هرڅومره لوړ ځای باندی هم دریږی کراهت مرتفع دی.

(۶) لمونځ کیږی خو نقصان ورسره دی او قصداً داسی کول دګناه سبب دی.

(۷) معلومه سوه چه دا ظاهر الروایت دی.

(۸) په دی کی څه قید نسته ترکم لوړوالی پوری چه دسجدی مفهوم باقی پاتی وی اجازت دی. (السجدة هي فریضة تتادی بوضع الجبهة علی الارض اوما یتصل بها بشرط الانخفاض الزائد علی نهایة الرکوع مع الخروج عن حد القیام لانه لا یعد ساجدا لغة وعرفا لمادونه ویعدّ به الخ ذکر الزاهدی لو سجد المریض علی دکان دون صدره یجوز کالصحیح الخ کبیری ص۲۷۸وص۲۸۱ جمیل الرحمٰن).

(۹) که چیری څه مقتدیان دامام سره وی بیا خو بعضی مقتدیان که په څومره لوړوالی باندی ودریږی جائزدی لکه چَت وغیره اوکه چیری امام یوازي لاندی وی اوټول مقتدیان پرلوړ ځای باندی وی نو دهغی هم هغه حد دی کم چه دامام دپاره یعنی په قدر دیوه ذراع یاپه قدر د مَا یَقَعُ بِهِ الْاِمْتِیَاز وي، که چیری مقتدیان لوړ وی نو لمونځ به مکروهه وی. وانفراد الامام علی الدکان الي قوله لم یکره کما لو کان معه بعض القوم.

(۱۰) ددی اندازی لوړوالی په وجهی سره به لمونځ مکروهه نه وی لیکن په دروازه کی دریدل امام لره مکروهه دی لکه څنګه چه پورته معلومه سوه.

(۱۱) دتکبیر په باره کی په درمختار کی دی: فلو قال الله مع الامام واکبر قبله لم یصح (ترجمه) نوکه یې چیری الله دامام سره ووایه او اَکْبَرْ یې دامام ځخه مخکی ووایه، نو

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۲۰۵، ط. س. ج۱ ص۶۴۲. ظفیر

لمونځ نه کیږی. اودسلام په باره کی په درالمختار کی دی: وتنقض قدوة بالاول قبل علیکم [۱] نو معلومه سوه چه دسلام په صورت کی به لمونځ وسی.

(۱۲،۱۳) که چیری دامام څخه مخکی رکوع او سجدی ته ولاړی نوکه چیری امام هم په هغه کی شامل سو نو دغه رکوع او سجده وسوه کنی ونسوه. اوهغه حدیث دادی: اما یخشی الذی یرفع راسه قبل الامام ان یحول راسه راس حمارٍ [۲]. متفق علیه، (ترجمه) آیا نه بیریږی هغه سړی څوك چه دامام څخه مخکی سر لوړوی چه دهغه سر دخره په شان سی. په حاشیه کی دی: ولعل المراد تحویله فی الآخرة لا فی الدنیا. اوداېن حجرڅخه هم منقول دی چه که په دنیا کی هم دچا دپاره وسی نو مُستبعَد نه دی کما نُقل عن البعض.

(۱۴) په دی ټولو صورتونو کی لمونځ کیږی.

(۱۵) الا السلام ساهیا للتحلیل ای للخروج من الصلوة قبل اتمامها علی ظن اکمالها فلا یفید (درمختار) لمونځ به وسی.

(۱۶) لمونځ دی نه پریږدی هر رنګه چه وی خوب اوسُستی دی دفع کړی (مثلا داچي مخ په یخو اوبو پرېولي او یا اودس په یخو اوبو وکړي نو خوب به يې رفع سي) او لمونځ دی وکړی قضا کوی دی نه.

(۱۷) خارښت که هرڅومره واری وی ګرول یې درست دی لمونځ نه ماتَوي: ویفسدها کلّ عمل کثیر ما لا یشك بسببه الناظرین بعید فی فاعله انه لیس فیها (درمختار بیان مفسدات الصلوٰة) ددُرمختار ددی تصحیح له وجهي خارش اګرچه په ډیرواری وی، دعمل کثیر دتعریف څخه خارج دی) دپوزی څخه پریچی ایستل بده خبره ده اګرچه لمونځ په دی سره نه فاسدیږی خودا مکروهه دی. اوکم ځای چه لمونځ فاسدیږی، هلته اعاده لازمه ده.

(۱۸) لمونځ مکروه کیږی اوداسی لمونځ واجب الاعاده دی. یعنی واجب دی چه اعاده يې وکړی په سبب دواجب دترك. (فی الدرالمختار: وکذا فی الرفع فیهما، ج۱ص ۴۸۲، جمیل الرحمٰن).

(۱۹) جائز نه دی. [۳]

(۲۰) په دې سره ترك دسُنتو واجبیږی دی دپاره مکروه [۴] دی.

---

(۱) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار . باب صفة الصلوة واجبات الصلوة ج۱ ص۴۳۲، ط. س. ج۱ ص۴۲۸. ظفیر

(۲) مشکوٰة. ظفیر

(۳) ولی چه قیام کم چه فرض دی بغیر دعُذر څخه پاته سو. ظفیر

(۴) ولی چه دلمونځ په هر رکن کی مُوټان خلاص ساتل مسنون دی. جمیل الرحمٰن

په مقبره کی لمونځ جائز دي که نه؟ **سوال**: (١٢١٠) په مقبره کی لمونځ جائز دی که نه؟
جواب: که چیری په مقبره کی یوځای صفا اوسُتره دلمونځ دپاره وی اوپه هغه کی نجاست اوقبر نه وی او دلمونځ گزار مخ ته دقبلی طرف ته هیڅ قبرنه وی، نو لمونځ جائز دی بغیر دکراهت تحریمیه څخه، اوکه چیری مخامخ قبر وی یا پخپله په هغه ځای کی قبر وی چیري چه لمونځ کوی نو مکروه تحریمی دی. په شامی کی دی: ولاباس بالصلوة فيها اذا كان فيها موضع اعد للصلوة وليس فيه قبر ولا نجاسة، كما فى الخانية ولا قبلة الى قبر ([1]) الخ او دلفظ د: لاباس څخه دومره ضرور معلومیږی، چه په مقبره کی لمونځ کول بنه نه دی.

که یي باد بندکړی نو لمونځ وسو اوکه نه؟ **سوال**: (١٢١١) دکم سړی چه دقبض په وجه باد ژر ژر خارجیږی که چیری هغه یې بند کړی او لمونځ اداء کوی نوآیا لمونځ به صحیح سی؟
جواب: لمونځ یې صحیح ([2]) دی. فقط

چه لمونځ گزارته مخامخ دپیپل درخته وي نو لمونځ ورسره نه مکروه کیږی: **سوال**: (١٢١٢) که چیری لمونځ گزارته مخامخ دپیپل درخته وی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟
جواب: لمونځ صحیح دی. په دی کی څه کراهت هم نسته.

په متیازو حصارولو سره په جَمع کی شریکیدل مکروهه دي: **سوال**: (١٢١٣) یوسړی ته دتشو متیازو ضرورت پیښ سو هغه حاجت موقوف کړی، اوپه جَمع سره یې لمونځ اداء کړی او دمثانی په قوت سره یې متیازی بندولی، وروسته یې متیازی وکړی. په دی حالت کی دلمونځ څه حکم دی؟
جواب: په دی حالت کی لمونځ مکروه تحریمی دی لیکن داهغه وخت دی چه دتشو یاډکو متیازو داسی تکلیف وی چه دده زړه په هغه کی مشغول وی. کما فی الشامی: قوله صلٰوته مع مدافعته الاخبثين البول والغايط. قال فى الخزائن سواء كان بعد شروعه او قبله فان شغله قطعه ان لم يخف فوت الوقت الخ ([3]).

چه په جیب کی روپی وي نو هم لمونځ کیږي: **سوال**: (١٢١٤) که چیری روپی یا پیسی د

([1]) ردالمحتار کتاب الصلوة ج١ ص٣٥٣ ، ط. س. ج١ ص٣٨٠. ظفير
([2]) يجب رد عذره او تقليله بقدر قدرته الخ وبرده لا يبقى ذاعذر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار احكام المعذور ج١ ص٢٨٣ ، ط. س. ج١ ص٣٠٧). ظفير
([3]) ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٢٠٠ ، ط. س. ج١ ص٢٧٢. ظفير

واسکټ په جیب کی وی اودنیت تړلو په وخت کی ترلاس لاندی وی نوآیا لمونځ کیږی؟
جواب: لمونځ په دی حالت کی بی کراهته صحیح دی ([1]).

دوریښمو او سروزرو سره لمونځ کیږي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۱۵) که چیری یوسړی بی عذره ریښم اوسره زر اغوندی او لمونځ ورسره کوی نو دهغه لمونځ به وسی اوکه نه؟ دبعضو احبابو خیال دی چه سره زر اوریښم دسړیانو دپاره اغوستل حرام دی لیکن که چیری وایی غوندی او لمونځ ورسره وکړی نو لمونځ به وسی. داصحیح ده اوکه نه؟
جواب: ریښمی جامه اوسره زر بیشکه دسړیانو دپاره حرام دی. او کم لمونځ چه ددې سره وکړل سی هغه صحیح دی، خو ظاهره ده چه کله دوریښمو اوسرو زرو استعمال سړیانو لره هروخت حرام دی نو په لمونځ کی هم حرام دی لیکن چونکه دادواړه نجس نه دی، ددی وجه څخه لمونځ وسو. ([2]) فقط

کم لمونځ چه دتعدیل ارکان څخه خالي وي، دهغه څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۲۱۶) دیو سړی عمر شل کاله دی په دی موده کی هغه هیڅ یو لمونځ درست نه دی کړی صرف دوې ډغری ووهی اولمونځ ختم کړی. دا لمونځونه وسوه اوکه نه؟ که چیری اعاده یې کوی نو صرف فرض به ادا کوی او که سُنت به هم کوی؟
جواب: کم لمونځونه چه دارکانو دتعدیل سره ادا نسوه اگرچه هغه سوی دی لیکن دهغو راگرځول ښه دی. دفرضو او وترو اعاده دی وکړی او دسنتو اعاده دی نه کوی. فقط

په محراب کی دامام دریدل: **سوال**: (۱۲۱۷) امام لره دجومات په محراب کی دریدل څنگه دی فقهاء چه دی ته مکروه وایی نو ددی څه دلیل دی؟ آیا دجومات دروازې هم دمحراب حکم لری؟ اودا محراب جوړول دڅه دپاره دی؟ فقهاؤ په کم کتاب کی ددی تصریح کړی ده چه دروازه دمحراب حکم لری؟ که چیری داسی تصریح فقهاؤ کړی وی نو هغه دی نقل وفرمایل سی. اودعلامه شامی په دؤو عبارتونو کی تعارض معلومیږی. په درمختار کی دی: وقیام الامام فی المحراب ای یکره لا سجوده فیه وقدماه خارجه الخ په شامی کی دی: والاصح ما روی عن ابی حنیفة رحمه الله انه قال اکره للامام ان یقوم بین ساریتین او زاویة او ناحیة المسجد او الی ساریة لانه بخلاف عمل الامة اھ وفیه ایضا: ومقتضاه ان الامام لوترك المحراب وقام فی غیره یکره ولوکان قیامه وسط الصف لانه خلاف عن

([1]) ولایکره لوکانت تحت قدمیه او فی یده عبارة الشمنی بدنه لانها مستورة بثیابه الخ ومفاده کراهة المستبین لا المستتر بکیس او صرة او ثوب اخر (درمختار) بان صلی ومعه صرة او کیس فیه دنانیر اودراهم فیها صور صغار فلا تکره لاستتارها (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ویکره فیها ج۱ ص۲۰۲ – ۲۰۷ ، ط. س. ج۱ ص۲۷۸). ظ
([2]) لان الصلوة فی الحریر مکروهة للرجال (شرح حموی علی الاشباه والنظائر ج۱ ص۱۹۷). ظفیر

الامة، په دی دؤو عبارتونو کی پـه ظاهره تخالف معلومیږی. ددی شبهی جواب تحریر وفرمایاست.

جواب: په دروازه کی ددریدلو وجه هم هغه ده کمه چه په محراب کی ددریدلو ده. نو کـه چیری قدمونه ددروازې څخه دباندي وی نو کراهت بـه مرتفع سی. او دعلاًمه شامی پـه دواړو عبارتونو کی هیڅ تعارض نسته. اول یې دا ویلی دی: ولوکان قیامه وسط الصف. وسطِ صف جلا دی او وسطِ مسجد جلا دی، نو مکروهِ دوسطِ مسجد پرینښول دی یعنی بی ضرورته، اگرچه دمقتدیانو دصف پـه مینځ کـی وی. او دروازه چونکـه دمحراب محاذی ده لهذا داوسط دی اوپه جومات کی اکثره دوې ۲ درجې وی یو مُسقَّف (یعنی چت والا) کم ته چه شتوی (دژمی والا حصه) ویل کیږی اوغیرِ مُسَقَّف کمي ته چه صَیفی (ددوبی والا حصه) ویل کیږی یعنی دمسجد دباندي برنډه یا غولی. نو کله چه لمونځ گزار په صیفی مسجدکی ودریږی نو دهغوی محراب بـه دجومات درمیانی دروازه وی. فقط

<u>دلمونځ گزار مخ ته چه څوک لمونځ کوی هغه دمخ څخه هاخواته کیدی سی اوکه نه؟</u> سوال: (١٢١٨) دوه ۲ لمونځ گزار دي یو یې مخ تـه اوبـل یې شاته لمونځ کوی، مخ والا اول فارغ سو اوس چه هغه دراسته طرف یا چپه طرف څخه ولاړیږی ولاړ سی نودا جائز دی اوکه نه؟

جواب: مخ والا فوراً رسته یا چپه طرف ته تلی سی داجائز دی.

دمسجد مسائل

<u>دجومات دروازه بندول څنگه دی؟</u> سوال: (١٢١٩) زید دجومات امام دی هغه دماخستن دلمانځـه څخـه وروسته نهـه ۹ بجـی دجومـات دروازه بنـده کـړی اوکـم لمـونځ گـزار چـه ددروازی دبندیدلو څخه وروسته راسی نوزید دروازه نه خلاصوی. آیا پـه یـو حـدیث کـی سته چه دجُومات دروازه دي دبندولو څخه وروسته بیانه خلاصوی؟

جواب: پـه درمختـار کـی دی چـه دجُومـات دروازه بنـدول مکـروه (١) دی. لـیکن کـه چیـری دجومات دسامان دورکیدلو بیره وی نو دلمونځ دوختونو څخه ماسوا دجومات دروازه بندول درست دی، اوپه شامی کی دی چه داخبره دمحلی والاوو پرراي باندی ده کم وخت چه هغوی مناسبه وگڼی ماسوا دلمونځ دوختونو څخه دروازه دی بَنْدَوی. پـه ذکـر سـوي

(١) وكره غلق باب المسجد اِلاً لخوف علی متاعه بهِ يفتیٰ (درمختار) قال فی البحر وانما كره لانه يشبه منع من الصلوة قال الله ﷻ: ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان يذكرفيها اسمه الخ والتدبير فی الغلق لاهل المحلة (رد المحتار قبيل باب الوتر والنوافل مطلب فی احكام المسجد ص٦١٤ ، ط. س. ج١ ص٦٥٧). ظفير

صورت کی دجومات دامام دلمونځ ګزارو دپاره دروازه نه خلاصول دشریعت دحکم څخه خلاف دی. اودروازه دبندولو څخه وروسته بیانه خلاصول سره ددې چې هغه دلمونځ ګزارو دضرورت په وجه وی هیڅیری ثابت نه دی.

په داسې جومات کې لمونځ درست دی که نه؟ سوال: (۱۲۲۰) دسوال دکاغذه سره د دراستول سوي نقشې ملاحظه کولو څخه وروسته تحریر وفرمایاست چه په دی جومات کې لمونځ درست دی او که نه؟

جواب: دنقشې دکتلو څخه معلومه سوه چه هیڅ قبر مخ طرفته یعنی دقبلې طرف ته نسته چه لمونځ ګزارته مخامخ واقع کیږی. نوپه ذکرسوی جومات کی لمونځ کول بې کراهته درست دی. کذا فی المنیه والشامی [1] وغیره. فقط

دجومات په دویم ۲ منزل کې لمونځ کول څنګه دی؟ سوال: (۱۲۲۱) اول یو جومات یو منزل ؤ، بیا هغه دوه ۲ منزله (دوه چَته) جوړ کړل سو په دې ډول سره یوه طرف ته خو مخکنی بنیاد (تاداو) راغی او په دریو طرفونو کې بینادونه (تاداوونه) هم زیات کړل سوه اوپر ټول جومات باندی دویم ۲ منزل جوړ کړی سوی دی صحن (غولی او انګړ) بالکل پاته نسو. دبعضو عالمانو څخه معلومه سوه چه پر مُسَقَّف جومات باندی لمونځ کول مکروه دی. که چیری په لاندینی منزل کی لمونځ وکړی سی نو دګرمی په موسم کې سخت تکلیف کیږی په داسی حالت کی دګرمی په موسم کی په پورتنی منزل کی لمونځ کول درست دی که نه؟

جواب: دمُنیه په شرح کی دی: وکل مایکره فی المسجد یکره فوقه ایضًا الخ او په شامی کی دی: قوله الوطی فوقه ای الجماع خزائن اما الوطی فوقه بالقدم فغیر مکروه الا فی الکعبة بغیر عُذر لقولهم بکراهیة الصلوة فوقها ثم رایت القهستانی نقل عن المفید کراهة الصعود الی سطح المسجد اه ویلزمه کراهة الصلوة ایضًا فوقه فلیتامل. [2] خلاصه او حاصل دادی چه دبعضو عبارتونو څخه پرجومات سربیره دلمونځ جواز معلومیږی اودبعضو څخه کراهت معلومیږی. اوپه صورت مسئوله کی په پورتنی چت (منزل) کی لمونځ مکروهه نه دی. ځکه چه اوّلاً دجومات پرچت باندی دلمونځ په کراهت کی اختلاف دی، بیا پورتنی درجی ته ددی مصداق په ویلو کی تامل دی اوبیا ذکرسوی عُذر موجود دی. [3] فقط

---

[1] ولاباس بالصلوة اذا کان فیها موضع اعد للصلوة ولیس فیه قبر ولا نجاسة الخ ولا قبلة الی قبر (رد المحتار کتاب الصلوة ج۱ ص۳۵۳، ط. س. ج۱ ص۳۸۰). ظفیر

[2] ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب فی احکام المسجد ج۱ ص۶۱۴، ط. س. ج۱ ص۶۵۶. ظفیر

که دیوچا سره نژدي دوه ۲ جوماتونه وي په کم کی لمونځ وکړي؟ سوال: (١٢٢٢) یو سړی په هغه جومات کی لمونځ کوی کم چه دهغه دکور سره نژدی دی اویو جومات دهغه دکور څخه په څه فاصله کی دی په کم جومات کی لمونځ وکړی؟

جواب: په نژدی والا جومات کی لمونځ کول پکاردی ځکه چه ددغه جومات پردوی باندی حق دی او ثواب هم په هغه کی زیات دی. (افضل المساجد مکة ثم المدینة ثم القدس ثم قبا ثم الأقدم ثم الأعظم ثم الأقرب الخ الدرالمختار علی هامش رد المحتار ج١ ص ٢١٧. ظفیر).

اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِی الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ

اولنی فصل: دوترو مسائل

کم مقتدي چه رکوع ونکړه آیا دهغه لمونځ ونسو؟ سوال: (١٢٢٣) که چیری امام دوترو دریم ۳ رکعت وکی رکوع ته ولاړی اودعاءِ قنوت یې ونه ویله اوپه آخره کی یې سجده سهوه وکړه نو کم مقتدی چه رکوع ته ولانه ړی دتاریکی په وجه یا دنظر دکمزوری په وجه بلکه سجدی ته ولاړی نو ددغه مقتدی لمونځ وسو او که نه؟

جواب: ددغه مقتدی لمونځ ونه سو چاچه رکوع ونه کړه (١) که چیری دامام دلمونځ دختمیدلو څخه وروسته هم هغه رکوع کړی وی او بیا یی سجده سهوه کړی وی نولمونځ به یې سوی وی. فقط

دُعاءِ قنوت ورڅخه هیره سوه چه ورته یاده سوه نووی ویله او سجده سهوه یې وکړه، نوڅه حکم دی؟ سوال: (١٢٢٤) دبکر څخه دوترو دُعاءِ قنوت هیره سوه اورکوع ته ولاړی، کله چه په رکوع کی ورته یاده سوه نودرکوع څخه تر ولاړیدلو وروسته یې دُعاءِ قنوت ووایه سجده سهوه یی وکړه اولمونځ یی ختم کی. لمونځ وسو اوکه نه؟

---

(٣) حضرت مفتی علام په دویم منزل کی دلمونځ په سلسله کی دعدمِ کراهت فیصله کړی ده، هغه بالکل دفقهی مطابق ده. دویم منزل ته چَت ویل اصطلاحًا هیڅکله درست نه دی. په اصطلاح کی چت هغه حصی ته وایی دکمی پرسر باندي چه بل چت نه وی او هغه دباران اولمر دمخنیوي دپاره جوړ سی. اودویم منزل دمسجد خوصرف دلمونځ دپاره جوړیږي، دچت په غرض سره نه وی. لهٰذا په هیڅ ډول هغه دچت په حکم کی نه دی. کم خلق چه تر اوسه پوری په دویم ۲ اودریم ۳ منزل کی لمونځ مکروه لیکی دخاکسار په نزد درست نه دی. البته دابهتره ضرور ده چه جَمع دی په لاندینی منزل کی کول کیږي. دضرورت او مجبوری په حالت کی ددویم یادریم منزل اراده کول پکاردی. والله اعلم. محمد ظفیرالدین عفی عنه

(١) ومن فرائضها التی لا تصح بدونها التحریمة الخ ومنها الرکوع بحیث لومَد یدیه نال رکبتیه (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤١١ وص٤١٢، ط. س. ج١ ص٤٤٢). ظفیر

جواب: بکر له درکوع څخه ترپاڅیدلو وروسته قنوت ویل نه ؤ پکار، لیکن اوس چه کله سجده سهوه یې وکړه نو لمونځ یې وسو. (١) فقط

وتر یی وکړل خو نیت یې دسنتو وکـی ، نوڅه حکم دی؟ سوال: (١٢٢٥) دتراویحو څخه وروسته چه کله دوترو دپاره خلق دریدل نو یوسړی په هیره سره دسنتو نیت وکی او وتر یی شروع کړه لیکن ددعاءِ قنوت په وخت کی یې په یاد سوه چې داخو وتر دي. په دی صورت کی وتر وسوه اوکه نه؟

جواب: دهغه وتر وسول. (٢)

فرض یې په جَمعی سره ونه کړل نو آیا وتر په جَمع سره کولی سی: سوال: (١٢٢٦) په رمضان کی زید دماخستن فرض په جَمعی سره ونه کړل نو وتر په جَمعی سره وکړی اوکه یوازي ؟

جواب: دوترو په جَمع کی شریکیدی سی. کذا صرَّح به فی الطحطاوی. اوعلاَّمه شامی رحمه الله بیشکه عدمِ جواز نقل کړی دی لیکن دطحطاوی په عبارت کي دجواز تصریح ده او قاعده هم دجواز تقاضا کوی، ددی وجه څخه زموږ مشران أستاذان دوترو په جماعت کی دشرکت دجواز قائل دی ولی چه دعدمِ جواز هیڅ وجه نسته. (٣) فقط

په دُعاء قنوت کي مُلحَق دحاء په زیر اوزوَر دواړو سره ویلی سی: سوال: (١٢٢٧) په دُعاء قنوت کی چه کم لفظ مُلحِق دی، ددی دحاء زور دی که زیر دی؟

جواب: په دُعاءِ قنوت کی دمُلْحق دحاء زیر اوزوَر دواړه ویل سوی دی او دواړه جائز دی اګر چه زیات مشهور زیر دی، په شامي کي دي: قوله: وملحق بمعنی لاحق، مبتداء وخبر وهو بکسر الحاء هذا هو المــشهور ونص غیر واحد علی انه الاصح ویقال بفتحها ذکره ابن قتیبه وغیره. ونص الجوهری علی انه صواب کذا فی الحلیة قلته بل فی القاموس الفتح احسن (٤) الخ. فقط

---

(١) ولو نسیه ای القنوت ثم تذکره فی الرکوع لا یقنت فیه لفوات محله ولا یعود الی القیام فی الاصح لانه فیه رفض الفرض للواجب فان عاد الیه وقنت ولم یعد الرکوع لم تفسدصلوته لکون رکوعه بعد قراءة تامة وسجد للسهو قنت اولا لزواله عن محله (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٧، ط. س. ج٢ ص٩). ظفیر

(٢) ولا عبرة بنیة متاخرة عنها علی المذهب وجوزه الکرخی ای الرکوع وکفی مطلق نیة الصلوة وان لم یقل لله لنفل وسنة راتبة الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب شروط الصلوة مطلب فی النیة ج١ ص ٣٨٧ – ٣٨٨ ، ط. س. ج١ ص٤١٧). ظفیر

(٣) بقی الخ قضیة التعلیل فی المسئلة السابقة بقولهم لانها تبع ان یصلی الوتر بجماعة في هذه الصورة لانه لیس بتبع التراویح ولا للعشاء عند الإمام (طحطاوي علی الدرالمختار باب الوتر والنوافل مبحث التراویح ج١ ص٢٩٧). ظفیر

(٤) رد المحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٤ ، ط. س. ج٢ ص٧. ظفیر

په وترو کی درفع یدین په سلسله کی یو غلط شهرت: **سوال**: (١٢٢٨) دوتر لمونځ دکله څخه واجب سو. وجه درفع یدین (لاسونو لوړولو) په دریم رکعت کی څه ده. بعضی وایی چه په معراج کی کله حضور ﷺ ددریم رکعت کولو دپاره ودریدی نو دوالدینو تعذیب یې ولیدی اورفع یدین یې وکړه آیا دا صحیح ده که نه ؟

جواب: ددی هیڅ اصل نسته. (١) فقط

امام قنوت ختمه کړه رکوع یې وکړه او دمقتدی دُعاء قنوت پوره نه سوه نوڅه وکړی؟ **سوال**: (١٢٢٩) دوترو په جَمع کی امام دُعاءِ قنوت ختمه کړه اورکوع ته ولاړی، دمقتدي قنوت ختمه نه وه، آیا هغه دمتابعتِ امام په غرض سره دقنوت ختمولو څخه بغیر رکوع ته ولاړ سی اوکه نه؟

جواب: که چیری لږ باقی وی چه ترپوره کولو وروسته یې په رکوع کی دامام سره شریك کیدی سی نو پوره دی کړی او رکوع دی وکړی کنې پردی یږدی. (٢) فقط

که دماخستن په جَمع کی شریک نسو نوهم وتر په جَمع سره کولی سی: **سوال**: (١٢٣٠) یو سړی دماخستن فرض یوازي وکړه، تراویح یې ټولی یا داکثره دامام سره ادا کړی یا یی بالکل ونه کړی په هرو دری ٣ صورتونو کی دوتر په جَمع کی شریکیدی سی اوکه نه؟ دمدرسی دیوبند په اشتهار دسنه ١٣٤٢ کی دی چه چاته دماخستن فرض په جَمع سره پیدا نسی هغه وتر دامام سره په جَمع سره کولی سی او علاّمه شامی په رد المحتار کی فرمایی: اذا لم یصلّ الفرض معه لا یتبعه فی الوتر. په دواړو تحریرونوکی به تطبیق څرنګه کیږی؟

جواب: په دری واړو صورتونوکی دوترو په جَمع کی شریکیدی سی. تراویح دامام سره دټولو یا بعضو نه کولو په صورت کی دوترو په جماعت کی دشریکیدلو جواز خو ددُرِ مختار په عبارت کی ذکر سوی دی: ولو لم یصلها ای التراویح بالامام اوصلاها مع غیره له ان یصلی الوتر (٣) معه الخ، او دماخستن فرض په جَمعی سره دنه کولو په صورت کی

---

(١) داصراحت خو پیدا نسو چه دوترو لمونځ حضور ﷺ دکم کال څخه شروع کړی ؤ، البته دحدیث څخه دومره معلومیږی چه دشروع څخه یی برابر کوی اوتاکید یی فرمایلی ؤو چه الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منّا (ابوداؤو) په قنوت کی لاسونه ځکه پورته کوی چه دحضور ﷺ څخه همداسی ثابت دی، ددی وجه به غالبًا داوی چه پر قراءت باندی قیام ختمیږی اوس چونکه هم دقیام په حالت کی دُعا ویل کیږی ددی وجه دلاسونو په پورته کولو سره اشاره کول کیږي چه قراءت په جلا ډول دی اودُعا په جلا ډول ده، پوښتونکی دمعراج حواله ورکړی ده، ددې هیڅ اصل نسته، والله اعلم . ظفیر

(٢) المقتدی یتابع الامام فی القنوت فلو رکع الامام فی الوتر قبل ان یفرغ المقتدی من القنوت فانه یتابع الامام الخ (عالمگیری مصری فی صلاة الوتر ج١ ص١٠٤). ظفیر

دوترو په جَمعه کی دشریکیدلو دجواز تعلیل دعلأمه طحطاوی څخه معلومیږی. حیث قال فی شرح قول صاحب الدرالمختار بقی لو ترکها الکل هل یصلون الوتر بجماعةٍ فلیراجع (قوله فلیراجع) قضیة التعلیل فی المسئلة السابقة بقولهم لانها تبع ان یصلی الوتر بجماعة فی هٰذه الصورة لانه لیس تبع للتراویح ولا لعشاء عند الا مام انتهی. (١) حلبی، طحطاوی.

نومعلومیږی چه علأمه شامی رحمه الله چي کم قول دقهستانی څخه نقل کړی دی: ثــم قال لکنه اذا لم یصل الفرض معه لا یتبعه فی الوتر(٢). داضعیف دی صحیح نه دی ولی چه وتر مستقل لمونځ دی نه دماخستن دلمونځ تابع دی اونه دتراویحو. دعلامه شامی درای فَلیُراجع په جواب کی هم همدا ده چه په دی صورت کی هم وتر په جَمع سره جائز کیدل نه دی پکار. او دعلأمه طحطاوی رای صفا دقواعدو مطابق داده چه په دی صورت کی هم وتر په جَمعه جائزدی اودشامی په آخری عبارت د: لاکراهَة څخه داهم معلومیږی چه مراد دقهستانی د: لایتبعه فی الوتر څخه کراهت دی. په اصل جوازکی اختلاف نسته. اوظاهر تعلیل منقول عن العلامة الطحطاوی دادی چه کراهت هم نسته ولی چه عشاء اووتر هریو مستقل لمونځ دی. فقط

دوترو په باره کی دیو عبارت مطلب: سوال: (١٢٣١) په درالمختار باب الوتر والنوافل کی دی: ویسن الدعاء المشهور ویصلی علی النبی صلی الله علیه وسلم وبه یفتٰی. نو په حنفی مذهب کی به څه وایی؟

جواب: ددعاءِ مشهور څخه مراد دعاءِ قنوت ده: اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ الخ او دُعاء: اَللّٰهُمَّ اهْدِنِیْ فِيْمَنْ هَدَيْتَ الخ ده ، ددی دویمی دُعا په آخره کی وَصَلَّی اللهُ عَلَی النَّبِیِّ هم سته. حنفیانو ته هم دا دواړي دُعاګانی ویل او جمع کول غوره دی. اوکه چیری صرف اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ الخ ووایي نو داهم درست دی. (٣) فقط

---

(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مبحث التراویح ج١ ص٢٢٣ ، ط. س. ج٢ ص٤٨. ظفیر

(١) الطحطاوی علی الدرالمختار مبحث فی التراویح ج١ ص٢٩٧ . ظفیر

(٢) رد المحتار مبحث فی التراویح ج١ ص٢٢٣ ، ط. س. ج٢ ص٤٨. ظفیر

(٣) قوله یسن الدعاء المشهور قدمنا فی بحث الواجبات التصریح بذلك عن النهر وذكر في البحر عن الکرخی ان القنوت لیس فیه دعاء مؤقت لانه روی عن الصحابة ادعیة مختلفة ولان الموقت من الدُعاء یذهب برقة القلب وذکر الإسبیجابی انه ظاهر الروایة وقال بعضهم المراد لیس فیه دعاء مؤقت ما سوی اللّٰهُمَّ انا نستعینك وقال بعضهم الافضل التوقیت ورجحه فی شرح المنیة تبرکا بالماثور آه (ردالمحتار باب الوتر ج١ ص٢٢٣). ظفیر

دوترو نیت: سوال: (۱۲۳۲) دوترو دنیت څه حکم دی ولی چه په درمختار کی دی: لذا ینوی الوتر لا الوتر الواجب کما فی العیدین للاختلاف، اوشامی هم دا اختیار کړی ده بعضی وایی چه که چیری دواجب نیت ونه کړی نو لمونځ جائز نه دی؟

جواب: علامه شامی په دی موقع کی دا لیکلی دی: ای انه لا یلزمه تعیین الوجوب لا منعه من ذالك ([1]) نو ددې څخه معلومه سوه چه نیت دوجوب منع نه دی، اودحنفی اعتقاد دوجوب دی لهٰذا هغه ته دوجوب په نیت کولوکی هیڅ حرج نسته اوکه چیری دمطلق وتر نیت وکړی نوبیا هم په لمونځ کی څه خلل نه راځی اوعبارت ددرمختار پر توسیع باندی محمول دی یعنی دمطلق وتر نیت هم درست دی.

چې قنوت پریږدی او رکوع ته ولاړ سی؟ سوال: (۱۲۳۳) که چیری دیوسړی څخه دوتر په لمونځ کی دعاءِ قنوت هیره سی اورکوع ته ولاړسي، بیا پخپله یا دبل چاپه وریادولو سره درکوع څخه پاڅیږی دعاء قنوت ووایی اودوباره بیا رکوع وکړی اوخپل لمونځ پوره کړی نوپه دی صورت کی به دهغه لمونځ فاسد سي اوکه په سجده سهوی سره به ئی لمونځ کامل سي؟

جواب: لمونځ ئی صحیح دی. کذا فی الدرالمختار: فان عاد الیه وقنت ولم یعد الرکوع.

په وترو کی درکوع څخه مخکی لاسونه لوړول او دعاء قنوت په حدیث کی؟ سوال: (۱۲۳۴) زموږ په ځای کی یوڅو کسان مذبذب غیر مقلدین دی، دوترو رکعتونه خو دری ۳ کوی لیکن دعاء قنوت درکوع څخه وروسته وائی یو په هغوی کی معمولی علم والا دی هغه وایی چی که چیری دحدیث څخه داثابته کړی چی رسول ﷺ به درکوع څخه مخکی لاسونه لوړول دغوږونو سره به ئی لګول او بیابه ئی قنوت لوسته نوموږ دمنلو دپاره تیاریُو. دحدیث څخه داثابته نه ده. تاسو یوحدیث ددی خبری په ثبوت کی تحریر وفرمایاست.

جواب: اخرج ابو نعیم فی الحلیة عن عطاء بن مسلم حدثنا العلاء بن المسیب عن حبیب بن ابی ثابت عن ابن عباس قال اوتر النبی ﷺ بثلث قنت فیها قبل الرکوع.

وعن ابن عمر ان النبی ﷺ کان اذا فرغ من القراءة کبر، وفی الذخیرة رفع یدیه حذاء اذنیه وهو مروی عن ابن مسعود وابن عمر وابن عباس وابی عبیدة واسحٰق وقد تقدم. کبیری شرح منیه ([2]). ددی روایاتو څخه صراحةً دوترو دری ۳ رکعاته کیدل او دوترو قنوت درکوع څخه مخکی کیدل او دحضرت عبدالله بن مسعود اوعبدالله بن عمر اوعبدالله بن

([1]) رد المحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۲۲، ط. س. ج۲ ص۷. ظفیر
([2]) غنیة المستملی باب الوتر ص۳۹۲. ظفیر

عباس وغیره صحابه کبارو رضي الله عنهم څخه دقنوت دتکبیر په وخت کی لاسونه لوړول ثابت سوه، اوظاهره ده چی دې کبارو اصحابو قنوت قبل رکوع اوتکبیر مع رفع الیدین رسول الله ﷺ ته په کتلو سره کړی دی لهٰذا داحُجت کافی دی اوکه چیری لا مذهبه خلق دانه منی نو هغوی ته ووایه چه کم مذهب دعبدالله بن مسعود اوعبدالله بن عمر او عبدالله بن عباس وغیره اصحابو رضي الله عنهم ؤ هم هغه زموږ دی. په کم دلیل سره چه دغه حضراتو رفع الیدین فی تکبیرات القنوت کوی هم هغه زموږ دلیل دی. فقط

چه وتر ختم کړی نو (سُبْحَانَ الْمَلِک الْقُدُّوْسُ) به کله وایی؟ **سوال**: (١٢٣٥) دوترو دسلام څخه وروسته چه کم سُبْحَانَ الْمَلِكَ الْقُدُّوْس دری ۳ واری ویل په حدیث کی راغلی دی دابه دسجده کولوڅخه وروسته وایی اوکه په قعده کی اوعند الاحناف داجائز دی که نه؟

جواب: چه کله دوترو سلام وګرځوی او کښیني هغه وخت دی ووایي، او داعند الاحناف هم جائز اومستحب دی. ([1]) فقط

دوترو په جماعت کی چه کله په دریم رکعت کی شامل سی نو دعاء قنوت به کله وایی؟

سوال: (١٢٣٦) په رمضان کی دوترو په دریم رکعت کی شامل سو، نو دوه رکعته کم چه باقی دی په هغه کی به دُعاءِ قنوت ویل کیږی اوکه نه؟

جواب: دُعاءِ قنوت به ویل کیږی. ([2]) فقط (زیات تفصیل په حاشیه کی وګوری. ظفیر)

سورت اخلاص به ددُعاءِ قنوت پرځای کافی سی اوکه نه؟ **سوال**: (١٢٣٧) په وترو کي ددعاءِ قنوت پرځای دري واره سورة اخلاص ویل کفایت کوي اوکه نه؟

جواب: په شامی کی یې راوړی دی: ومن لا یحسن القنوت یقول ربنا آتنا فی الدنیا حسنة الآیة. وقال ابو اللیث یقول اللّهم اغفر لی یکررها ثلاثا وقیل یقول یا ربّ ثلاثا ذکره فی

([1]) عن ابی بن کعب قال کان رسول لله ﷺ اذا سلّم فی الوتر قال سبحان الملك القدوس رواه ابوداؤد والنسائی وزاد ثلث مرات یطین وفی روایة للنسائی عن عبدالرحمٰن بن ابزی عن ابیه قال کان یقول اذا سلم سبحان الملك القدوس ثلثا ویرفع صوته بالثالثة (مشکوٰة باب الوتر فصل ثانی ص ١١٢). ظفیر

([2]) ولها واجبات لا تفسد ..... بترکها وتعاد وجوبا في العمد والسهو الخ وهي علی ما ذکره اربعة عشر: قراءة فاتحة الکتاب الخ اوقراءة قنوت الوتر وهو مطلق الدعاء (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب صفة الصلاة مطلب واجبات الصلاة ج١ ص۴۲۴ ، ط. س. ج١ ص۴۵۷) ددې څخه چي ددعاء قنوت ویل ضروري دي، مګر مسبوق به یې کله وایي؟ په دې باره کي فقهاء رحمهم الله لیکي : واما المسبوق فیقنت مع امامه فقط ویصیر مدرکا بادراك رکوع الثالثة (درمختار) فیقنط مع امامه فقط لانه اخر صلاته وما یقضیه اولها حکما في حق القرآءة وما اشبهها وهو القنوت واذا وقع قنوته في موضعه بیقین لا یکرر ولان تکراره غیر مشروع، شرح المنیة (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١) یعني دریم رکعت که چیري ده پوره نیولی وي نو دامام سره دي قنوت ووایي او وروسته یې بیا دویلو ضرورت نسته ، البته که چیري په دریم رکعت کي هغه وخت ورګډ سو کله چي امام دقنوت څخه فارغ سوی ؤ نو وروسته دي ووایي. ظفیر

الذخيرة الخ (١) نومعلومه سوه چه سورة اخلاص ددُعاء قنوت پرځای منقول نه دی.

دوترو امامت دفرض لمونځ دامام څخه علاوه بل سړی کولی سی که نه؟ **سوال**: (١٢٣٨) ایا دوترو دلمانځه امام دفرض لمانځه له امام څخه پرته بل څوك کیدی سي اوکه نه؟

جواب: دوترو دجمع امام دفرض لمانځه دامام څخه پرته بل څوك کیدلای سي.

دوترو ددوو رکعتو څخه وروسته به قعده کوي اوکه نه؟ **سوال**: دوترو ددؤو رکعتو څخه وروسته دالتحیات دپاره کښیناستل جائزدی اوکه نه؟

جواب: کښیناستل پکاردی لکه څنګه چه دفقهی اوحدیثو دکتابونو څخه ثابت دی. په درمختار کی دی: وهو ثلث رکعات کالمغرب، قوله: کالمغرب افاد ان القعدة الاولی واجبة الخ شامی باب الوتر والنوافل (٢). (معلومه سوه چه ددؤو رکعتونو څخه وروسته کښېنستل واجب دی. ظفیر)

دُعاء قنوت صرف دوترو دپاره ده: **سوال**: (١٢٤٠) ماسوا دوترو دلمونځ او دسهار دلمونځ څخه په یوه فرض لمونځ کی هم قنوت ویل درست دی اوکه نه؟ او دقنوت څخه وروسته درود شریف ویل څنګه دی؟

جواب: داحنافو په نزد دوترو څخه ماسوا په بل هیڅ لمونځ کی دُعاء قنوت ویل درست نه دی. دسهار په لمونځ کی چه حضور ﷺ کمی یوڅو ورځی دُعاء قنوت ویلی ده هغه منسوخ سوی ده (٣) البته که چیری څه حادثه پیښه سی نودسهار په لمونځ کی قنوت ویل درست دی. ماسوا دسهار څخه په نورو لمونځونوکی مختلف فیه ده. (٤) او ددعاءِ قنوت څخه وروسته درود شریف ویل هم درست دی. فقط

دوترو قعده دحضور ﷺ څخه ثابته ده: **سوال**: (١٢٤١) دوترو اولنۍ قعده دنبی کریم ﷺ او صحابهؤ ﷺ څخه ثابته ده که نه ؟

جواب: دوترو مخکنی قعده دحضور ﷺ اوصحابهؤ ﷺ څخه ثابته ده، لکه څنګه چه دنسائی په روایت کی دی: عن سعد بن هشام ان عائشة ﷺ عنها حدثته ان رسول الله

---

(١) ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٢٣ . ظفیر

(٢) ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٢٤ . ظفیر

(٣) ویاتی الماموم بقنوت الوتر الخ لا الفجر لانه منسوخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٢٢ ، ط. س. ج٢ ص٨). ظفیر

(٤) ولا یقنت لغیره الاّ لنازلة فیقنت الامام فی الجهریة وقیل فی الکل (درمختار) قوله لا یقنت لغیره ای غیرالوتر الخ قوله فیقنت الامام فی الجهریة الخ لکن فی الاشباه عن الغایة قنت فی صلاة الفجر الخ قال الحافظ ابوجعفر الطحاوی انما لا یقنت عندنا فی صلوة الفجر من غیر بلیة الخ (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج١ ص٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١). ظفیر

ﷺ کان لایسلم فی رکعتی الوتر، ([1]) اوپه صحیح مسلم کی دی: ویصلی تسع رکعات لا یجلس فیها الا فی الثانیة ([2]).

دوترو دپاره به دیوه رکعت نیت کوی اوکه ددریو ۳ رکعتو: سوال: (۱۲۴۲) دوترو نیت به دیوه رکعت کول کیږي اوکه ددریو ۳ ؟

جواب: په شریعت کی دری۳ رکعاته وتردی او دامام ابوحنیفه ﷺ مذهب دادی چه صرف یورکعت کول جائز نه دی، حضور ﷺ ددی څخه منع فرمایلی ([3]) ده. والله اعلم

دوترو په دریم رکعت کی شاملیدونکی چاچه قنوت دامام سره وویله اوپه رکوع کی شاملیدونکی چاچه قنوت ونه ویله هغوی به څه کوی؟ سوال: (۱۲۴۳) زید دوترو په آخری رکعت کی شامل سو او دامام سره یې دُعاء قنوت وویله وروسته چه دوه رکعته کوی، نو په هغوکی به قنوت وایی اوکه نه؟ بل صورت دادی چه امام یې په آخری رکوع کی ونیوی او قنوت یې ونه ویله. دی به په باقی دؤو رکعتوکی قنوت وایی اوکه نه؟

جواب: په مخکنی صورت کی به بیا قنوت نه وایی. واما المسبوق فیقنت مع امامه. اوپه دویم صورت کی به په آخری رکعت کی قنوت وایی. ([4])

دوترو په نیت کی واجب اللیل ویل څنګه دی؟ سوال: (۱۲۴۴) دوترو په نیت کی واجب اللیل ویل څنګه دی؟

جواب: دوترو په نیت کی داویل پکار دی چه نیت کوم زه دوتر لمونځ، اوکه واجب اللیل هم ووایی نو څه حرج نسته. ([5])

نیم سورت پرېښوول څنګه دی؟ سوال: (۱۲۴۵) دوترو په مخکنی رکعت کی یې اِذَاْ زُلْزِلَتْ ووایه اوپه دویم کی یې نیم وَالْعَادِیَاتِ ولوستی اوپه دریم کی یې اَلْقَارِعَةِ ووایه، آیا په وترو کی خرابی راغله اوکه نه؟

جواب: داسی کول ښه نه دی پوره پوره سورت په هر یوه رکعت کی ویل غوره او بهتر دی

([1]) نسائی شریف. ظفیر

([2]) مسلم ج۱ ص۲۲۲. ظفیر

([3]) وهو ای الوتر ثلاث رکعات کالمغرب حتی لو نسی القعود لایعود ولو عاد ینبغی الفساد (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۲۲ ، ط. س. ج۲ ص۵). ظفیر

([4]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الوتر ج۱ ص۲۲۸ . ظفیر

([5]) وکفی مطلق نیة الصلاة وان لم یقل لـ لله لنفل وسنة راتبة وتراویح الخ ولابد من التعیین عند النیّه الخ لفرض الخ وواجب انه وتر (درمختار) اشار الی انه لاینوی فیه انه واجب للاختلاف فیه زیلعی ای لا یلزمه تعیین الوجوب ولیس المراد منعه من ان ینوی وجوبه لانه انکان حنفیا ینبغی ان ینویه لیطابق اعتقاده الخ (ردالمحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص۳۸۹ ، ط. س. ج۱ ص۴۱۷). ظفیر

لیکن دوتر لمونځ په دی صورت کی هم وسو. ([1]) فقط

په وترو کی په هیره ددُعا څخه مخکی رکوع: **سوال**: (۱۲۴۶) دامام څخه دوترو په لمونځ کی لاسونه لوړول اودُعاء قنوت ویل هیر سوه اورکوع ته ولاړی او سمدستی چه وریاد سوه نو بېرته ودریدی، لاسونه یې لوړ کړل اودُعاء قنوت یی ولوسته سجده سهوه یی وکړه او دلمونځ څخه فارغ سو. لمونځ یې وسو اوکه نه؟

مقتدی لره امام ته وریادول څنګه دی؟ **سوال**: (۱۲۴۷) که چیری امام ته مقتدی واپس راتلل وریاد کړل اوامام واپس راغی رفع یدین یې وکړه اودُعاء قنوت یې ولوسته، سجده سهوه یی وکړه او لمونځ یې ختم کی نو دمقتدی په لمونځ کی څه فساد خو را نه غی؟

کله چه دامام څخه دیوی سجدی څخه وروسته بله سجده هیره سی: **سوال**: (۱۲۴۸) امام یو رکعت وکړی یوه سجده یی وکړه او دالتحیات ویلو دپاره کښېنستی، مقتدی به دویمه سجده په کمی طریقی سره وریادَوی.که چیری مقتدی الله اکبر یاسبحان الله ووایی نو امام ودریږی؟

جواب: (۱) لمونځ صحیح سو. فان عاد الیه وقنت ولم یعد الرکوع لم تفسد صلوته وسجد للسهو. ([2]) الخ درمختار.

(۲) هیڅ فساد رانغی ([3]).

(۳) دوریادولو مطلب داوی چه په: سُبْحَانَ الله وغیره ویلو سره امام ته خبرداری ورکړی چه څه اوکمی زیاتی په لمونځ کی وسو. په دی باندی به هغه پخپله سوچ وکی اوځان ته به یې وریاد کړی چه کم کار پاته سویدی، دانه چه بعینه هغه کار ورته وښودل سی کم چه فوت سوی دی. لهٰذا دتنبیه دپاره سُبحان الله ویل کافی دی که چیری هغه ته وریاد سوه نو فَبِهَا کنې دلمونځ څخه وروسته په معلومیدلو باندی به دلمونځ اعاده وکړی. فقط

چه دُعاء قنوت یې یاده وی نو بله دُعا ویلی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۴۹) که چیری دُعاء قنوت یې یاده وی نو بله دُعا مثلاً رَبَّنَا آتِنَا ویلی سی او که نه؟

جواب: چه دُعاء قنوت ورته یاده وی نو رَبَّنا آتِنا وغیره نسی ویلی صرف دُعاء قنوت ویل

([1]) مع انهم صرحوا بان الافضل فی کل رکعة الفاتحة وسورة تامة (ردالمحتار فصل فی القراءة ج۱ ص۵۰۵ ، ط. س. ج ۱ ۵۴۱). ظفیر

([2]) الدرالمختار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۲۷ ، ط. س. ج۲ ص۹. ظفیر

([3]) بخلاف فتحه علی امامه فانه لایفسد مطلقًا لفاتح واٰخذ بکل حال (الدرالمختار باب مایفسد الصلوة الخ ج۱ ص۵۸۲). ظفیر

پکار دی. ([1])

<u>دحديث څخه دُعاء قنوت ثابته ده که نه؟</u> سوال: (١٧٥٠) یو سړی وایی چه دُعاء قنوت دحدیث څخه ثابته نه ده. رسول الله ﷺ په وتروکی دُعاءِ قنوت نه ده ویلی. داصحیح ده که نه؟

جواب: ددغه سړی خبره غلطه ده. دُعاء قنوت مُرَوَّجه دحدیث څخه ثابته ده اوپه وترو کی دُعاء قنوت ویل په احادیثو کی وارد دی. ([2])

<u>ددُعاء قنوت څخه مخکی دلاسونو لوړولو څه وجه ده؟</u> سوال: (١٧٥١) دوترو په لمونځ کی چه کله دُعا قنوت وایی نو په لاسونو لوړولو سره دتکبیر ویلو څه وجه ده؟

جواب: دوترو په دریم ٣ رکعت کی په تکبیر ویلو سره دلاسونو دلوړولو داوجه ده چه په مُصنَّف ابی بکر بن شیبه کی همدغه ډول وارد دی: باب تکبیر القنوت ورفع الیدین حدثنا عبد السلام بن حرب عن لیث عن عبد الرحمٰن ابن الاسود عن ابیه ان عبد الرحمٰن بن مسعود رضي الله عنه کان اذا فرغ من القراء کبر ثم قنت فاذا فرغ من القنوت کبر ثم رکع ومثله عن البراء حدثنا عبد الرحمٰن بن محمد المحاربی عن لیث عن الاسود عن ابیه عبدالله انه کان یرفع یدیه اذا قنت فی الوتر. مصنف ابی بکر بن شیبه.

<u>دادا کولو په وخت کی وتروته واجب ویل څنګه دی؟</u> سوال: (١٧٥٢) دوترو ادا کولو په وخت کی وترو ته واجب ویل پکاردی اوکه نه؟ بعضی مُلایان منع ورڅخه کوی یعنی وایي چي واجب ویل نه دی پکار؟

جواب: وتروته واجب ویل پکاردی، وتر دامام اعظم رحمه الله په نزد واجب دی لهٰذا دوترو داداء کولو په وخت کی دواجب لفظ په ویلو کی څه حرج نسته. او که ونه ویل سی نو هم واجب دی وتر به اداءسی. ([3])

<u>په دعاءِ قنوت کی مُلحقِ دحاء په کسرې سره:</u> سوال: (١٧٥٣) لفظ دمُلحق کم چه په دُعاء

([1]) ومن لا یحسن القنوت یقول ربنا اٰتنا فی الدنیا حسنة، الآیة (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٤ ، ط. س. ج٢ ص٧). ظفیر

([2]) وقنت فیه ویسن الدعاء المشهور ویصلی علی النبی ﷺ به یفتی (درمختار) ومنه ما اخرجه الاربعة وحسنه الترمذی انه علیه الصلوة والسلام کان یقول فی اٰخر وتره اللّٰهم اِنّی اعوذ برضاك الخ (رد المحتار باب الوتر ج١ ص٦٢٣ ، ط. س. ج٢ ص٦). ظفیر

([3]) وکفی مطلق النیة لنفل وسنة راتبة وتراویح الخ ولابد من التعین عند النیة الخ لفرض الخ واجب انه وتر (در مختار) اشار الی انه لا ینوی فیه انه واجب للاختلاف فیه، زیلعی، ای لا یلزمه تعیین الواجب ولیس المراد منعه من ان ینوی وجوبه لانه ان کان حنفیا ینبغی ان ینویه لیطابق اعتقاده وان کان غیره لا تضره تلك، ذکره فی البحر فی باب الوتر (ردالمحتار . باب شروط الصلوة بحث النیة ج١ ص ٣٨٨ – ٣٨٩ ، ط. س. ج١ ص٤١٧). ظفیر

قنوت کی دی دحاء په کسرې سره بهتر دی او که دحاء په فتحی سره؟
جواب: مُلحق دحاء په کسرې سره بهتر دی او اکثر دی اودحاء په فتح سره همدرست دی. (١) فقطَ

دقنوت څخه مخکې درفع یدین ثبوت: **سوال**: (١٧٥۴) دوترو په دریم رکعت کی دقنوت څخه مخکی لاسونه لوړول دکم ځای څخه راغلی دی او سبب یی څه دی؟
جواب: دحدیث لاَ تَرْفَعُوا الْاَیْدِی اِلاَّ فی مَوَاطِنِ (٢) الخ څخه ددعاء قنوت دویلو په وخت کی لاسونه لوړول ثابت دی اوددی تحقیق دفقهی اوحدیث په کتابونو کی ذکر سوی دی. (٣) فقط.

دوترو څخه وروسته دسبحانَ الملک القدُّوس او دلوی اختر لمونځ ته دتللو په وخت کی تکبیر په لوړ آواز دنه ویونکی حکم: **سوال**: (١٧٥٥) یوسړی دوترو څخه وروسته په لوړ آواز سره سُبحانَ الملك القدوس دری واری نه وایی اونه دلوی اختر لمونځ ته دتللو په وخت کی په لاره کی په لوړ آواز سره تکبیر وایی، دی متبع سنت دی که نه؟
جواب: دوترو څخه وروسته په لوړ آواز سره سبحانَ الملك القدوس دری واری ویل مستحب دی. اوپه بعضی روایاتوکی په دریم وار لوړ آواز سره ویل راغلی دی. نو ددی څخه په دریم واری سبحان الملك القدوس په لوړ آواز سره ویل ثابتیږی. بهر حال داسی کول مستحب اوبهتر دی. اوپر ترك کونکی باندی طعن اوملامتې نه دی کول پکار ولی چه مستحب کار کله څوك نه کوی نو پرهغه باندی هیڅ طعن نسته. البته داتباع سُنت مقتضیٰ داده چه څرنګه چې حضور ﷺ کړیدی هغسی دی وکړی. یعنی برابره خبره ده که یې دری واره ووایی یایو وار په آخره کی سبحان الملك القدوس دوترو څخه وروسته په لوړ آواز سره ووایې، (۴) همدغه شان په لوی اختر کی تکبیر په لوړ آواز سره په لاره کی مشروع او مسنون دی. ددی پرینبول هم دسنتو څخه خلاف دی (۵). فقط

---

(١) وصح الملحق بالکسر بمعنی الحق، فملحق بمعنی لاحق (درالمختار) ای انه من الحق المزید بمعنی لحق المجرد فی الشرنبلالیة ان المطرزی صح ان المراد ملحق الفساق بالکفار والاول اولی الخ (ردالمحتار باب الوتر الخ ج١ ص٦٢۴ ، ط. س. ج٢ ص٧). ظفیر

(٢) و (٣) ولا یسن مؤکدا رفع یدیه الا فی سبع مواطن کما ورد بناء علی ان الصفا والمروة واحد نظرا للسعی، ثلاثة فی الصلاة تکبیر افتتاح وقنوت وعید (در المختار) والوارد هوقوله ﷺ لا ترفع الایدی الاّ فی سبع مواطن تکبیرة الا فتتاح وتکبیرة القنوت الخ (رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص۴٧٣ ، ط. س. ج١ ۵٠٧). ظفیر

(۴) عن ابی بن کعب قال کان رسول الله ﷺ اذا سلم فی الوتر قال سبحان الملك القدوس رواه ابوداؤد والنسائی وفی روایة للنسائی عن عبدالرحمٰن بن ابزی عن ابیه قال کان یقول اذا سلم سبحان الملك القدوس ثلثا ویرفع صوته بالثالثة (مشکوٰة باب الوتر ص ١١٢). ظفیر =

که دُعاء قنوت یادنه وي نو څه به وايي؟ سوال: (۱۷۵۶) سړی ته چه دُعاء قنوت یاده نه وی نوهغه لره پرځای ددُعاء قنوت سورت اخلاص ویل جائزدی اوکه نه؟ او لمونځ یې کیږی اوکه نه؟

جواب: په شامی کی دی چه دچا دُعاء قنوت نه وی یاد نو هغه دی: رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ، الآية ووايي، او فقيه ابو الليث فرمايي چه (اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ) دری واری ووايي. او بعضی عالمانو ويلی دی چه دری واری دی يَارَبِّ ووايي. كذا في الذخيرة. شامی (۱)، او چونکه دامحل ددُعا دی لهٰذا سورت اخلاص به ددی قائم مقام نه وی خو لمونځ کیږی.

تهجد کوونکی دفرضو سره وتر اداء کولی سی که نه؟ سوال: (۱۷۵۷) کم لمونځ ګزار چه تهجد ګزاردی هغوئ دتهجد په وخت کی وتر اداء کوی. که چیری دمخکی څخه دماخستن په وخت کی وتر وکړی نو په دی کی څه حرج سته اوکه نه؟ اکثره خلق وایی چه دوترو څخه وروسته ترسهاره پوری هیڅ لمونځ نه کیږی؟

جواب: په دی کی څه حرج نسته چه کم خلق تهجد ګزاردی هغوی دی هم وتر دماخستن څخه وروسته وکړی. بلکه دا احوط ده. بیا که چیری را کښېنستی نو تهجد دی وکړی دا خبره غلطه ده چه دوترو څخه وروسته دی بیا نفلونه ونه کړل سی. (۲)

ددُعاء قنوت دپاره تکبیر اورفع یدین: سوال: (۱۷۵۸) دقنوت په وخت کی په تکبیر سره لاسونه لوړول سُنت دی اوکه نه؟

جواب: دمُنیه په شرح کی علامه حلبی دقنوت په وخت کی دتکبیر اورفعِ الیدین په باره کی احادیث اوآثار نقل کړی دی. دهغه څخه ددی سنت والی ثابت دی. مَن شاء التفصيل فلير جع (۳) اليه. فقط

---

(۵) وقالا الجهر به سنة كالاضحى الخ ويكبر جهرا اتفاقًا في الطريق قيل وفى المصلى وعليه عمل الناس اليوم لا فى البيت (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتارباب العيدين ج۱ ص۷۷۸ وص۷۸۴ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۰). ظفير

(۱) ومن لا يحسن القنوت يقول ربنا اٰتنا فى الدنيا حسنة الآية وقال ابو الليث يقول اللهم اغفرلى يكررها ثلثا وقيل يقول ياربِّ ثلاثا ذكره فى الذخيرة (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۲۴، ط.س. ج۲ ص۷). ظفير

(۲) وتاخير الوتر الى اٰخر الليل لو اثق بالانتباة والاً فقبل النوم فان افاق وصلى نوافل والحال انه صلى الوتر اول الليل فانه الافضل (درمختار) اى اذا اوتر قبل النوم ثم استيقظ يصلى ماكتب له ولا كراهة فيه بل هو مندوب ولا يعيد الوتر الخ (ردالمحتار، كتاب الصلوة ج۱ ص۳۴۲ ، ط. س. ج۱ ص۳۹۹). ظفيرالدين غفرله

(۳) ثم اذا اراد القنوت كبّر ورفع يديه عندنا الخ قال احمد اذا قنت قبل الركوع كبر قال ابن قدامه فى المغنى وقد روى ابن عمر انه كان اذا فرغ من القراءة كبّر وفي الذخيرة رفع يديه حذاء اذنيه وهو مروى عن ابن مسعود وابن عُمر وابن عبّاس وابى عبيدة والحق وقد تقدم (غنية المستملى ص ۳۹۷) په واجباتو دلمانځه کی مذکور دی: وقراءة قنوت الوتر الخ وكذا تكبير قنوته (درمختار) اى الوتر الخ وجزم الزيلعى بوجوب السجود بتركه وينبغى ترجيح عدم الوجوب لانه الاصل ولادليل عليه (ردالمحتارباب صفة الصلوة واجبات الصلوة ج۱ ص۴۳۷، ط.س. ج۱ ص۴۷۱). ظ

ددُعا ویلو ځخه بغیر رکوع ته ولاړی دوریادولو ځخه وروسته یې دُعا ووایه نو بیا یی دوباره رکوع وکړه نوځه حکم دی؟ سوال: (١٢٥٩) امام دوترو په دریم رکعت کي دقنوت دعا سهواً پرینبوله اورکوع ته ولاړی، او دمقتدی په الله اکبر ویلو باندی امام ودریدی او دُعاء قنوت یې وویه اودوباره یې رکوع وکړه، او دلمونځ په آخره کی یې سجده سهوه وکړه نو وتر وسوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی په سجده سهوی سره لمونځ وسو. په درمختارکی دی: فان عاد الیه وقنت ولم یعد الرکوع لم تفسد صلوته الخ وسجد للسهو[١] الخ. فقط

دوترو دری رکعته په یوه سلام سره او په رمضان کی مع الجماعت جواز: سوال: (١٢٢٠) زید وایی چه دماسخوتن ترلمونځ وروسته دری رکعته وتر لمونځ په یوه سلام سره هیڅ شی نه دی، اوپه جماعت سره په شرع کی ددی هیڅ اصل نسته اوددی پرمنکر او تارك باندی عند الله هیڅ مؤاخذه نسته.

جواب: دزید قول غلط دی، دوترو دری رکعته په یوه سلام سره په صحیح احادیثو سره ثابت دی. اودوترو جماعت په رمضان شریف کی مستحب دی او افضل دی. په شامی کی دی رجح الکمال الجماعة بانه ﷺ کان اوتوا بهم ثم بین العذر فی تاخره مثل ماصنع فی التراویح فالوتر کالتراویح فکما أن الجماعة فیها سنة فکذالك الوتر (٢) الخ، وګوری په دی عبارت کی یې په څومره وضاحت سره دوترو دجماعت سُنت والی ثابت فرمایلی دی. فویل للمنکر. فقط

کم سړی چه په جَمعی سره دماخستن لمونځ ونکړی نو آیا هغه دوترو امام جوړیدی سی؟

سوال: (١٢٢١) کم سړی چه دماسخوتن فرض په جَمعی سره نه وی کړی هغه په وتروکی دامام سره شریکیدی سی اوکه نه؟

فقهی روایات په دی مسئله کی متعارض دی. په بعضوکی خوعدمِ جواز مصرَّح دی: وان وجدهم فی الوتر وهو لم یصل العشاء فصلی الوتر معهم لایجوز وتره فی قولهم قاضی خان ص١١٣، لکنه اذا لم یصل الفرض معه لا یتبعه فی الوتر کما فی المنیه جامع الرموز ص٩٧ ، لکن فی التتارخانیة من التتمة انه سئل علی بن احمد عمن صلی الفرض والتراویح وحده او التراویح وحده او التراویح فقط هل یصلی الوتر مع الامام فقال لا ثم رایت القهستانی ذکر تصحیح ما ذکره المصنف رح، ثم قال لکنه اذا لم یصل الفرض معه لایتبعه فی الوتر،

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٢٧. ظفیر

(٢) ردالمحتار باب الوتر والنوفل قبیل باب ادراك الفریضة ج١ ص٢٢۴ . ظفیر

ردالمحتار، اوپه بعضو روایاتوکی جواز لیکل سوی دی. واذا لم یصل الفرض مع الامام قیل لا یتبعه فی التراویح ولا فی الوتر وکذا اذا لم یصل معه التراویح لا یتبعه فی الوتر والصحیح انه یجوز ان یتبعه فی ذالك كله. صغیری شرح منية المصلی ص ٢١٠.

اوس داخبره معلومول دی چه عند الاحناف مُرَجَّح کم یو روایت دی اوعلّت دترجیح څه دی. اوکه چیری په دی روایاتوکی تطبیق کیدی سی نو په کمه طریقه باندی. دجماعت ثواب ته په کتلو سره خو دجواز دروایت ترجیح ځرګندیږي، بل داچي دوترو جماعت دتراویحو دجماعت تابع دی اوکه دماخستن دجماعت؟ دشقِ اول پربنا باندی دماخستن دجماعت په ترك کیدلو سره وتر دامام سره نه اداء کول ظاهراً څه وجه وجیهه نه لری او دشقِ ثانی پربنا باندی خصوصیت درمضان لغوه سو، بیاخو په غیرِ رمضان کی هم وتر په جماعت سره اداء کول پکار دی.

جواب: صحیح اوراجح روایت دصغیری معلومیږي. دطحطاوی دتحقیق څخه هم همدا ظاهریږی. قوله لبقی الخ قضية التعليل فی المسئلة السابقة بقولهم لانها تبع ان یصلی الوتر بجماعة فی هٰذه الصورة لانه لیس یتبع للتراویح ولا للعشاء عند الامام رحمه الله طحطاوی ([1]) اوشاید چه روایت دعدمِ جواز دصاحبینو رحمهما الله پرمذهب باندي بنا وي، ځکه چي هغوی وتر دماخستن تابع بولي، په خلاف دقول دامام اعظم رحمه الله ځکه چي دهغه په نزد وتر دماخستن دلمونځ تابع نه دی. نو دامام صاحب رحمه الله پرقول باندی جواز ظاهر دی. فقط

<u>په وتروکی مسبوق ته دامام سره دُعا ویل کافي دي</u>: **سوال**: (١٢٢٢) په رمضان شریف کی چه کله وتر په جماعت سره کول کیږي، که چیری یو سړی دوترو په دریم رکعت کي شامل سی نودا سړی به دُعاءِ قنوت دامام سره وایی، اوکه کم رکعت چي دهغه جماعت څخه پاته سوی دی په هغه کی به دُعاء قنوت وایی، کم وخت چه امام ددُعاء قنوت دپاره لاسونه لوړ کړی، نودی به هغه وخت دُعاء قنوت وایی اوکه بل څه به وایی؟

جواب: مسبوق به صرف دامام سره دُعاء قنوت وایی بیا به یې دقضا سوی رکعت په آخره کي نه وایی: واما المسبوق فیقنت مع امامه، درمختار . ([2]) فقط



([1]) طحطاوی علی الدرالمختار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ ص٢٩٧ . ظفیر
([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل قبیل مطلب فی القنوت للنازلة ج١ ص ٢٢٨. ظفیر

دوترو دوجوب تحقیق

دمُخالفینو دشُبهاتو مُحقّقانه جوابونه

وتر واجب دي: **مخالف او موافق دلائل**: **سوال**: (۱۲۲۳) وتر واجب دی اوکه سُنت دی؟

جواب: (دبل چا (یوه اهلِ حدیث او غیرِ مُقلّد) دطرف څخه)

وتر واجب نه دی بلکه سُنت دی. لکه څنګه چي په ترمذی اونسایي شریف کی دی: عن علی بن ابی طالب قال لیس الوتر بحتم کهیئة المکتوبة ولکن سنة سننها رسول الله ﷺ رواه الترمذی والنسائی وحسنه الحاکم. اوپه سبل السلام شرح بلوغ المرام کی دی: ذهب الجمهور الی انه لیس بواجب. اوپه ابن ماجه کی دی: ان الوتر لیس بحتم ولا کصلوتکم المکتوبة، اوپه تفسیرِ خازن کی دی: عن عائشه رضی الله عنها ان النبی ﷺ قال ثلاث هن علی فریضة وهن سنة لکم الوتر والسواك وقیام اللیل. غرض دادی چه ددی صحیح حدیثونو څخه همدا ثابتیږی چه وتر واجب نه دی اوهمدا مذهب دی دامام ابویوسف اومحمد رحمهما الله کم چه دامام ابو حنیفة رحمه الله لوی شاګردان دی او داکثرو سلفو هم دغه مذهب دی. ددی ټولو برخلاف دابو حنیفه (رضی الله عنه) مذهب قوی کیدی نسی ولی چه کم ځای صحیح حدیث وی دهغه برخلاف دیو امام پرمذهب باندی چلیدل سراسر غلطی اومحض تعصب دی، جواب ورکوونکی صاحب چه کم دعُقبه ابن عامر رضی الله عنه په حدیث سره دوجوب استدلال کړی دی هغه بالکل غلط دی، ولی چه په دی حدیث کی دوجوب هیڅیری ذکر نسته صرف دحدیث مذکور څخه فضیلت ثابتیږی، نه وجوب. که چیری دفضیلت دحدیث څخه وجوب ثابتول وی نو دسهار دسنتو په باره کی حضور ﷺ فرمایلی دی: رکعتا الفجر خیر من الدنیا وما فیها، رواه مسلم. دي ته هم واجب ویل پکار دی، حالانکه هیڅا پردی باندی دواجبو حکم نه دی کړی. نو معلومه سوه چه داسی حدیثونه صرف دفضائلو دپاره دی نه دوجوب دپاره. په داسی حدیثونو سره وجوب ثابتول پر کم فهمی باندی دلالت کوی اوپه ابوداؤد کی دی: ان رجلاً من بنی کنانة سمع رجلاً بالشام یدعی ابا محمد یقول ان الوتر واجب قال المخدمی خرجت الی عبادة بن الصامت فاخبرته فقال عبادة کذب أبو محمد سمعت رسول الله ﷺ یقول خمس صلوت کتبهن الله علی العباد، مختصراً.

دمُحبیب صاحب ددویم حدیث: الوتر واجب علی کلّ مسلم، دامعنٰی نه ده چه وتر واجب دی ولی چه واجب په معنٰی دثابت دی. دویم حدیث ددی دتائید په باب الغسل المسنون کی موجود دی: غسل یوم الجمعة واجب علٰی کلّ محتلم. که چیری هرځای دواجب معنٰی واجب وی، نودغسل حدیث هم دواجب په معنٰی کی اخستل پکار دی حالانکه ددی حدیث دوجوب معنٰی هیڅ یوشارح نه ده کړی بلکه هریوه ددی حدیث معنٰی ثابته کړی ده ولی چه دجُمعی غسل دهیچا په نزد واجب نه دی دټولو په نزد سُنت دی، حتّی چه عند الاحناف هم غسل مسنون دی. همدغه ډول دحدیث الوتر واجب، معنٰی ثابتٌ وګرځیده، نه واجب. کله چه واجب معنٰی نه سوه نو ددی څخه استدلال کول غلط وګرځیدل او دوترو مسنون کیدل ثابت سوه. لکه څنګه چه په سُبل السلام کی دی: والایجاب قد یطلق علی المسنون تاکیداً کما ذکر فی حدیث غُسل الجُمعة. طالبِ حق لره دومره کافی دی، کنې دلائل ډیر دی، که چیری ولیکل سی نو مستقل کتاب جوړیږی.

مفتی صاحب چه کم درې ۳ احادیث دیوه رکعات وتر په ممانعت کی پیش کړی دی هغه بالکل ضعیف دی اوپه صحاح ستهٔ کي بالکل موجود هم نه دي، دصحاح ستهٔ داحادیثو چي هغه صحیح او دټولو په وړاندي مسلّم دي مقابله نسي کولای، چه کله صحیح حدیث موجودوی نو په هغه سره به استدلال کول کیږي، لکه څنګه چه په نسایی شریف کی دی عن ابن عمر ان النبی ﷺ قال الوتر رکعة من آخر اللیل اوپه ابوداؤد کی دی عن ابن ایوب الانصاری قال قال رسول الله ﷺ الوتر حق علی کل مسلم فمن احب ان یوتر فلیفعل ومن احب ان یوتر بثلاث فلیفعل ومن احب ان یوتر بواحدة فلیفعل. ددی حدیث څخه دهغه خلقو دمذهب تردید راووتی کم خلق چه جزماً (په یقیني ډول) ددری ۳ رکعتو وترو حکم ورکوی. وایي، چه کله رسول الله ﷺ په هر ډول اجازت فرمایلی دی نو تحدید (تعین) دکم ځای څخه راباسی، خامخا عام شریعت مطهّره محدود کول نادانی ده. کله چه رسول مقبول ﷺ دچاچه موږ تابعدار یُو هغوی دیوه رکعات وتر اودری ۳ رکعاتو وترو اوپنځو وترو کولو اجازت اورخصت مرحمت فرمایلی دی نوبیا دنورو خبره څرنګه تسلیم کړل سی، بلکه دارخصت محدود کول محضي تعصب اومذهبی پابندی ده. لکه څرنګه چه رسول مقبول ﷺ رخصت فرمایلی دی هغه ډول دي ولی فتوٰی ورنکړل سی، که څوك یو کوی، که دری کوی اوکه پنځه. اوپه ابن ماجه کی دی: سأل ابن عمر رجلاً کیف اوتر قال اوتر بواحدة قال انی اخشٰی ان یقول الناس البتیراء فقال سنة الله ورسوله یرید هذه سنة الله ورسوله. وګوری په دې حدیث کی صفا بیان دی چه دغه سړی حضرت ابن عمر ﷺ ته دیوه وترکولو اعتراض وکی، لیکن حضرت ابن عمر ﷺ ددغه

سړی خبره ونه منله بلکه دایی وویل چه (ستا خبره صحیح) نه ده یو وتر کول دحضور ﷺ سنت دی. نومونږ څرنګه ویلی سو چه ددریو څخه کم یازیات جائزنه دی. اوپه فتح الباری شرح صحیح بخاری کی دی: وصح عن جماعة من الصحابة انهم اوتربواحدة من غیر تقدم نفل قبلها وفی کتاب محمد بن نصیر وغیره باسناد صحیح عن السائب بن یزید ان عثمان قرأ القرآن لیلة فی رکعة لم یصل غیرها وفی المغازی ان سعداً اوتر برکعة وفی المناقب عن معاویة انه اوتربرکعة وان ابن عباس استصوبه، ددی ټولو اقوالو اواحادیثو څخه هم ثابتیږی چه هررنګه رخصت دی. نور ډیر دلائل دی لیکن په سبب دعدم ګنجائش نسی ځائیدی. هم دومره کافی وګنی. او درسول ﷺ فرمان بردار جوړسی ولی چه دهغوی فرمان برداری نجات دی. مفتی صاحب چي دمینځنی التحیات دثبوت دپاره کم حدیث پیش کړی دی دهغه څخه دالتحیات ثبوت هرګز نه سی کیدی ولی چه په دی کي صرف همدا ده چه پشان دماښام دلمانځه دی، په دی کی دالتحیات هیڅ ذکر نسته، مماثلت تامه مرادنه دی، لکه چه یوسړی ووایي، زید دزمری په شان دی، اوس ددی څخه دانه ثابتیږی چه زید دی په رشتیا زمری وی بلکه صرف دامراد دی چه دزید بهادری په شان دزمری ده. په دې ډول په دې حدیث کی هم دا خبره ذکر کرده چه (وتر) دماښام دلمونځ په شان دی یعنی په شمارکی دماښام دلمونځ په شان دی. که چیری مماثلث تامه وګنی نو بیا وتر هم دماښام دلمونځ په شان فرض عین ګڼل پکار دي، سره له دې چي وترو ته هیڅ څوك فرض نه وایی، نو ددی څخه معلومه سوه چه دلته مماثلثِ تامه مرادنه دی. بله داده چه په دی کی ذکردی چه دماښام لمونځ دورځی وتردی اودا دشپې وتر دی. ددی څخه هم داثابتیږی چه مماثلث صرف په وتر کیدلوکی دی مماثلتِ کلي نه دی. موږ دخدای په فضل سره دصحاحِ ستّهٔ وغیره څخه صحیح حدیثونه وړاندی کوو په کومو کی چه صریح الفاظ دی چه په مینځ کی التحیات ویل نه دی پکار.

عن ابی هریرة مرفوعًا وموقوفًا لا توتروا بثلاث تشبهوا بصلوٰة المغرب وقد صححه الحاکم. اودویم حدیث عن عائشة رضی الله عنها انه کان رسول الله ﷺ یوتر بثلاث لا یقعد الا فی آخرهن، وروی النسائی من حدیث ابی بن کعب نحوه، ولفظه یوتر بسبح اسم ربك الاعلی وقل یٰا أیها الکافرون وقل هو الله احد ولا یسلم الا فی آخرهن. ددی حدیثونو صریح الفاظ دی چه حضرت رسول الله ﷺ به په مینځ کی دالتحیات دپاره نه کښېنستی. داحتمال والا حدیث څرنګه ددې مقابله کولی سی. په اصل کی دوتروکولو دوه صورتونه دی، یوخو هغه کم چه ذکر سو (یعنی) بغیر دالتحیات څخه په آخره کی سلام ګرځول.

دویم صورت دادی چي دوه رکعته وکړي او سلام وګرځوي او یو رکعت جلا وکړي، دا صورت ډیر بهتر دی. او همدا اکثرو خلکو خوښ کړی دی.
مفتی صاحب چه دقنوت په باره کی کم تحریر فرمایلی دی چه درکوع څخه وروسته قنوت مکروه دی. اوپنځلس ۱۵ ورځي حضور ﷺ پر یوقوم باندي لعنت کړیدی، په هغه کي په هغه کي دقبل اوبعد ذکر نسته معلومه نه ده چي آیامولوی صاحب دفتویٰ ورکولو په وخت کی په صُمٌّ بُکْمٌ کیدلو سره فتویٰ لیکلی ده، ولی چه په صریح حدیث کی لفظ دبعد ذکر سوی دی او مفتی صاحب دقبل اوبعد دواړو نفی تحریر کړیده. عن ابی هریرة ان رسول الله ﷺ اذا اراد ان یدعو علی احد او یدعو لاَحد قنتَ بعد الرکوع، الحدیث، په ابن ماجه کي دي: عن محمد قال سالت انس بن مالك عن القنوت فقال قنتَ رسول الله بعد الرکوع، عون المعبود، وقد روی محمد بن نصر عن انس ان رسول الله ﷺ کان یقنت بعد الرکعة وابوبکر وعمر حتی کان عثمان قنت قبل الرکعة قال المنذري وفی روایة قال هٰذا یقول فی وتر القنوت. ددی حدیثونو څخه ثابتیږی چه قنوت درکوع څخه وروسته ویل پکاردی مکروهه لیکل بی دلیله اوضد دی. که چیری څوك درکوع څخه مخکی قنوت ووایي نو موږ دا نسو ویلی چه داجائز نه دی. ولی چه ددواړو طرفو حدیثونه موجود دي، ددواړو طرفو په حدیثونو باندی دعمل کولو دپاره دی قنوت کله درکوع څخه مخکی وایی اوکله درکوع څخه وروسته، ولی چه په یوه حدیث باندی عمل کول او په بل باندی نه کول ښه خبره نه ده، مناسب همدادی چه په دواړو باندی عمل وکړی دپاره ددی چه په دواړو کی تعارض پاته نه سی.
جواب: (دطرفه څخه دمولوی مشیت الله صاحب دیوبندی)
دټولو څخه مخکی داخبره عرض کول مناسب معلومیږی چه په دی (لوړ) جواب کی دغور او تنقیح څخه وروسته دري ۳ جُزه راوَزی:
(۱). داچه وتر سنت دی، ددی پرواجب والی باندی هیڅ دلیل نسته او چاچه دعُقبه بن عامر ﷺ په حدیث سره استدلال کړی دی هغه بالکل غلط دی ولی چه په هغه کی دوجوب هیڅ ذکر نسته، اوپه: اَلْوِتْرُ وَاجِبٌ علٰی کُلِّ مسلم، سره هم پر وجوب باندی استدلال کول باطل دی ولی چه دلته واجب په معنٰی دثابت دی، وجوب اصطلاحی نه دی او واجب په دی معنٰی کی په کثرت سره راځی کما فی باب الغسل المسنون: غسل یوم الجمعة واجب، دلته دټولو په نزد واجب په معنٰی دثابت دی ولی چه دجُمعی غُسل ته هیڅوك واجب نه وایی.

(۲). ددرو رکعتو تحدید په وتروکی کول باطل دی. دو ترو یورکعت کیدل هم دنبی کریم علیه التحیة والتسلیم څخه ثابت دی لکه چه په نسائی کی دی: عن ابن عمر ﷻ ان النبی ﷺ قال الوتر رکعة من آخر اللیل. او په ابوداؤد کی دی: عن ابی ایوب الانصاری قال قال رسول الله ﷺ الوتر حق علی کل مسلم فمن احب ان یوتر بخمس فلیفعل ومن احب ان یوتر بثلاث فلیفعل ومن احب ان یوتر بواحدة فلیفعل. ددی دواړو روایتونوڅخه دهغه خلقو دمذهب تردید راووتی ځوك چه جزماً وتر دری ۳ رکعته ګڼی، او پردی باندی دلیل راوړل پکاردی چه دوی ددرو رکعتو تحدید دکم ځای څخه کوی. بل داچه دحضرت عائشي ﷻ په روایت: انّه کان النبی ﷺ یوتر بثلاث لایقعد الا فی آخرهن، سره په وتر دری رکعته منلو سره داولنی قعدی نفی کیږی. بیا دمینځنی التحیات ثبوت څرنګه کیدی سی؟

(۳). درسول الله ﷺ څخه قنوت بعد الرکوع ویل هم ثابت دی، بعد الرکوع اوقبل الرکوع په دواړو طریقو قنوت ویل بغیر کراهته جائز کیدل پکاردی بیا بعد الرکوع قنوت ویل مکروهه څنګه سو.

دا دري ۳ خبری دی دکومو چه جواب ورکونکی (غیرِ مُقَلِّد) صاحب التزام کړی دی، او دخپلی کم فهمی ډاډ يې پخپله خپل ځان لره ورکړی دی، او لیکلی يې دی چه دټولو روایتونو پرخلاف یو مذهب قوی نسی کیدی، ولی چه هرچیری صحیح حدیث وی دهغه پر خلاف په یوه مذهب باندی چلیدل سراسر غلط اومحض تعصب دی.

تاته به انشاء الله تعالٰی معلومه سی چه دامام ابوحنیفه ﷻ مذهب دصحیح روایاتو سره ځومره زیات نژدی دی. دا دابوحنیفه (ﷻ) کمالِ فراست اوتفقُّه فی الدین دی چه صحیح روایات خو لا څه کوي ضعیف روایت يې هم دلاسه نه دی ورکړی (بلکه عمل يې په کړی دی). امام صاحب ﷫ دروایاتو تعامل او قرائنو ته په کتلو سره داسی پاکیزه او عمده حل را باسی چه دهغه دکبله په ټولو روایاتو باندی اګر چه هغه متعارض وی عمل کول آسان سی. غیرِ متعصب شخص ددې اندازه کولی سی. دمتعصب او عناد کونکی په خیال کی داخبره هیڅکله نسی راتلی، لیکن :

گر نه بیند بروز شپره چشم — چشمه آفتاب را چه گناه

نو په دې کي دلمر نسي لیدی — که چوپرك دورځي دلمر دټکی څه ګناه ده

ددی خبری څخه زموږ مقصود پرچا باندی طعن او تشنیع (عیب او ملامتیا) نه ده، اونه زموږ داطریقه ده، نه موږ داسی بېباکه يُو چه دتعصب په پرده کی رامخ ته سو اوچه دکم امام مو زړه وغواړي توهین وکو. البته زموږ ددغه پورتنی فتوٰی جواب غوښتل

سويدی، په همدې خاطر چې كم زمونږ په نزد حق دی هغه نمبروار پردرو اجزاؤ (حِصو) باندی په تقسيمولو سره جواب ورکؤو. واللهُ الْمُوَفِّق لِلصَّواب.

(۱) دوترو په باره کی اگر چه دامام ابوحنيفه رحمه الله څخه يوروايت داهم دی چه وتر سُنَّت دی ليکن دصاحبِ نهايه غوندی دمذهب محققينو اَصَح اوراجح روايت وجوب گرځولی دی. اوس کتل دې ته پکار دی چه صرف امام صاحب رحمه الله وتر واجب گرځولی دی او که نور حضرات هم دوجوب قائل دی. دجناب مُجيب صاحب دښه پوهې په رڼا کې ده داسي وګڼل چه امام ابو حنيفه رحمه الله په دی کی منفرِد (يوازي) دی. کاشکي! چه دی دامام بدر الدين عينی رحمه الله ددې عبارت څخه خبر وای: وحکی ابن حزم ان مالکًا قال من ترکه أُدِّب وکانت جرحة فی الشهادة الخ وفی المصنف عن مجاهد بسند صحيح هو واجب ولم يکتب الخ وحکی ابن بطال وجوبه عن اهل القرآن عن ابن مسعود وحذيفة وابراهيم النخعی وعن يوسف بن خالد السمتی شيخ الشافعی وجوبه وحکاه ابن ابی شيبة ايضًا عن سعيد بن المسيب وابی عبيدة بن عبد الله ابن مسعود والضحاك (۱) إنتهی. نومعلومه سوه چه يوازی ابوحنيفه رحمه الله دوجوبِ وترقائل نه دی، بلکه په سَلفو کی يو جماعت ورته دابو حنيفه رحمه الله په شان واجب وايی. حتّی چه دامام مالك رحمه الله هم رجحان دې طرف ته معلوميږی ولی چه دا ډول سخت الفاظ دواجبو دپرېښوولو په باره کی ويل کيږی. او حافظ عليم الدين السخاوی خو دوترو دفريضت قائل سوی دی. کما فی حاشية بحر الرائق: واختار الشيخ عليم الدين السخاوی انه فرض وعمل فيه جزءًا وساق الاحاديث الدالة علی فرضيته ثم قال فلا يرتاب ذو فهم بعد هٰذا انها الحقت بالصلوٰت الخمس فی المحافظة. (۲) إنتهٰی.

اوعجيبه نه ده چه دامام بخاری رحمه الله په نزد دي هم دوجوب طرف راجح وی. کما اشار اليه الحافظ فی فتح الباری: افراده بالترجمة عن ابواب التهجد والتطوع يقتضی انه غير ملحق بها، ثم قال الحافظ ولولا انه اورد الحديث الذی فيه ايقاعه علی الدابة الا المکتوبة لکان اشارة الی انه يقول بوجوبه. (۳) انتهٰی.

حافظ" خوپه ښکاره ډول وويل چه دامامِ بخاری رحمه الله دصلوٰة وتر اوصلوٰة ليل دپاره جلا

(۱) عمدة القاری ابواب الوتر ج۲ص ۴۱۲ . ظفير
(۲) حاشيه بحر الرايق ج۲ ص۴۰ . ظفير
(۳) فتح الباری ابواب الوتر ج۲ ص ۳۹۷ . ظفير

جلا تراجم اوبابونه راوړل ددې تقاضاکوی چه بخاری رحمه الله وتردصلوة لیل سره نه یوځای کوی، لیکن دې ته په کتلو سره چه بخاری رحمه الله په ابواب وترکی هغه حدیث هم راوړی دی، په کم کی چه رسول الله ﷺ وتر پردابه باندی دسپرلی په حالت کی کړی دی، نو حافظ فرمایلی دي چه بیشکه او شُبهی دابه ویل سوی وای چه بخاری رحمه الله دوجوب وتر قائل دی. که چیری بخاری داقِسم حدیث نه وی راوړی په کم کی چه درسول الله ﷺ څخه وتر پردابه باندی کول ثابت دی. نو زه وایم چه بُخاری رحمه الله یقیناً دصلوة وتر دوجوب قائل سوی دی، دومره خبره خو حافظ" هم مني چي دبخاري رحمه الله دصلاةِ لیل او وترو دپاره جلا جلا بابونه راوړل ددې تقاضا کوي چي بخاري رحمه الله دواړه په یوه درجه کي ساتل نه غواړي، او دی دوترو دوجوب قائل سویدی ، لیکن دبخاری رحمه الله په هغه روایت راوړلو سره په کم کی چه درسول الله ﷺ څخه پردابه باندی وترکول ثابت دی. اوس دانسبت هغوی دطرف ته نسی کیدی. زه وایم باوجود ددی چه بخاری داقسم حدیث هم راوړی دی، دکم څخه چه دنبی کریم ﷺ پردابه باندی وتر کول ثابتیږی خو بیا هم دا دبخاری رحمه الله دهغه مقصد منفی نه دی کم چه یې دترجمو په جلا جلا راوړلو کی اشارةً ذکرکړی دی ولی چه ته به ډیر تر ډیره دا ووایې چه کله بخاری رحمه الله دوترو دوجوب قائل سو نوهغه لره بیا هغه حدیث راوړل نه ؤ پکار په کم کی چه دادي چه دسپروالی په حالت کی وتر ادا کړل سوی دی، ځکه چي دا ممکنه نه معلومیږي چي وتر دي واجب وي او بیا پر دابه باندي دسپرلي په حالت کي دي ادا سوی وي.

ددی څخه وروسته زه ستاسو څخه پوښتنه کوم چه ددی دلیل راوړی او ثابته کړئ چه دبُخاری رحمه الله هم دغه مسلك دی چه واجب که دسفر په حالت کی وی هم پردابه باندی یې کول جائز نه دی. بُخاری رحمه الله داجتهاد وړتیا اوقابلیت لری. عجبیه نه ده چه دوتر دوجوب دقائل کیدلو سره سره پردابه باندی اداء کول یې هم جائز بللي وي. اوبهتره خبره داده چه داسي وویل سی چه بخاری رحمه الله دهغه حدیث په راوړلو سره په کم کی چه دادی چه رسول الله ﷺ پردابه باندی وتر کول، دې ته اشاره کړیده چي پردابه باندي وتر کول دوجوب منافی نه دی، ولی چه دا واقعه دحال لاَ عَمُوْمَ لَهَا په طور باندی ده (یعني داسي واقعه ده چي عمومي شکل اوډول نه لري) اوکله چه دمعتبرو روایاتو څخه ثابته ده چه درسول الله ﷺ عادت شریف داؤ چه وتربه یې ددابی څخه پرمزکه باندی په راکښته کیدلو سره کول. کما فی الطحاوی، نوهرو مرو او لا محاله داوتر به پردابی سربیره دیو عذر په حالت کی سوی وی اودُعذر په حالت کي واجب خوڅه چي فرض هم پردابه باندي

سربیره کول متفق علیه جائز دي، ځکه نوپه دې روایت کی پردابی باندی وتر کیدل دوجوبِ وتر سره منافی نه دی. والله اعلم

دوترو دسُنیّت په قائلینو کی یوه ډله وتر دنبی کریم ﷺ په حق کی دخصوصیت په طور واجب ګنی اوبیا دحضور ﷺ پردابه باندی اداء کول یې هغوی مُضر نه ګني.

مقصد دادی چي دبخاری رحمه الله شان، اودهغهٔ عادت ته په کتلو سره هم دا معلومیږي چي امام بخاري رحمه الله هم دامام ابوحنیفه رحمه الله په شان دوترو دوجوب قائل سوی دی. دامام ابوحنیفه رحمه الله په باره کی خو بعضی عناد لرونکی او تعصّب لرونکی داهم وایی، چه هغوی ته دصحیحو روایاتو ذخیره نه وه رسیدلی، ښه نو دامام بُخاری رحمه الله په باره کی به څه وایی څوك چه امیر المومنین فی الحدیث دی چه هغوی هم دوجوب قائل سوی دی، اوس ددومره فهرست شمارلو څخه وروسته زموږ مجیب مجتهد ته داحق پاته نسو چه هغه دسُبل السلام عبارت: وذهب الجمهور الی انه لیس بواجب، زموږ په مخکی په پیش کولو سره دا دعوٰی وکړی چه ابو حنیفه رحمه الله په دی مسئله کی منفرد دی.

که چیری زموږ دمجیب صاحب خیال وی نو په واقعیت کي دسبل السّلام داعبارت به بیشکه دتحقیق په مقام کی دنظر څخه دغورځولو قابل وی، اوکه چیری داسی نه وی بلکه دسبل السلام دصاحب دنفی دواجب څخه مراد نفی دفرضیت وی او زموږ مجیب صاحب دظاهری الفاظو څخه خطا وتلی وي اوداسي ورته بربښیدلي وي چي نفي دوجوب به مراد وي، نوبیا هم داخبره دحنفیهٔ په وړاندي نسي پیش کولای ځکه چي حنفیانو خو دفرضیت دعوه نه ده کړي.

دوترو دواجب والی دلائل متعدد دی، په عمدة القاري شرح بخاري کي امام بدرالدین عیني رحمه الله هغه ټول بالاستیعاب ذکر کړیدی، ستاسو دتسلی له خاطره په مختصر طور سره دري څلور دلته هم ذکر کوم. عن النبی ﷺ قال اجعلوا آخر صلوتکم باللّیل وتراً. رواه (١) مسلم. وعنه ان النبی ﷺ قال بادروا الصبح بالوتر، رواه مسلم، (٢) وعن ابی سعید الخدری ان النبی ﷺ قال اوتروا قبل ان تصبحوا. رواه الستة الا البخاری (٣) دا دری روایتونه دی په کموکی چه دوترو تعلیم په صیغی دامر ذکر سوی دی. او اګرچه داهل تحقیقو دمذهب پربنا باندی امر دوجوب دپاره نه وی لیکن دلته به امر بالضرور دوجوب دپاره منل کیږی. پردی باندی منجمله دډیرو قرائنو څخه ترټولو لویه او بهتره

(١) مشکوٰة باب الوتر ص ١١١ . ظفیر
(٢). ایضًا . ظفیر
(٣) ایضًا . ظفیر

قرینه داده چه وتر په اصل کی هغه لمونځ دی کم چه دسورت مزمل دنازلیدلو په وخت کی فرض کړی سوی ؤ. او دطبقات ابن سعد دروایت چي: ان الله ایدکم اللیلة صلٰوة، الحدیث څخه والله سبحانه وتعالٰی اعلم داسی معلومیږی چه دالمونځ دمخکی څخه شفعًا فرض ؤو. ایتار بیا وروسته فرض کړل سو. ذکره الخطابی فی معالمه. غرض داچی په دی کی شك نسته چی دالمونځ په یو وخت کی یقینًا فرض ؤو. اوس کتل ددی خبري پکار دي چی بیا وروسته ددی لمونځ وجوب اولزوم منسوخ سوی دی اوکه تطویلِ قراءة. نو په: فاقرأوا ما تیسر من القران، سره تطویل دقراءة منسوخ سوی دی، ددی وجوب او لزوم په منسوخ سوی نه دی هغه هم هغه ډول باقی دی، او دوجوب اولزوم په نسخ باندی هیڅ دلیل صریح موجود نه دی. هو! دفرضیت دنسخ احتمال سته، لهٰذا ددی ټولو وجوهاتو په رعایت کولو سره حنفیه دفرضیت دعوٰی نه کوی، بلکه دوجوب اولزوم مدعیان دی. حتٰی چی زما ددی تقریر څخه داخبره هم معلومه سوه چی دوترو وجوب دسورت مزمل دنزول دوخت څخه تراوسه پوری راروان دی منسوخ سوی نه دی، او څرنګه څوك دنسخ دعوٰی کولی سي کله چی دوجوب پرنسخ باندی هیڅ دلیل موجود نه دی. که چیری ستاسو سره څه دلیل وی نوبسم الله کی دا یې ګز دا یې میدان، پیش ئی کړی، هو! شرط دادی چی انصاف دی ملحوظ وی. اوکه چیري ددی ټولو روایاتو په پیش کولوسره ستاسو تسکین نه وی سوی اودا معنوی نظر چه امر دوجوب دپاره دی زموږ دمجتهد مجیب په پوهه کی رانه سی نو نور هم ورسره واؤری:

په ابوداؤد کی دی: عن عبدالله بن بریدة عن ابیه قال سمعت رسول الله ﷺ یقول الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منا، الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منا (١) قال العینی وهٰذا حدیث صحیح وفیه ابو المنیب وثقه ابن معین وقال ابن ابی حاتم هوصالح الحدیث وقال یحول (٢). ددی حدیث څخه معلومه سوه چه رسول الله ﷺ وتر دسنتو په شان نه دی لرلی بلکه دتارك په حق کی یې شدید وعید فرمایلی دی او دمادونَ الفرض اوما فوق السنن رُتبه یې ددی دپاره مقرره فرمایلی ده. ولیس هٰذا الاّ الوجوب. امام ابو حنیفه رحمه الله همدی ته واجب وایی. په فرضو اوواجبو کی دامام صاحب په نزد واضحه فرق دی کما فی البحر. وذکر حکایة فی البدائع هی ان یوسف بن خالد السمتی کان من اعیان فقهاء البصرة فسأل ابا حنیفة عنه فقال انه واجب فقال له کفرت یا اباحنیفه ظنًا منه انه یقول انه فریضة فقال ابوحنیفه أیهولنی إکفارك ایای وانا أعرف الفرق بین الفرض والواجب کفرق مابین

(١) مشکوٰة باب الوتر فصل ثانی ص١١٣ . ظفیر
(٢) عمدة القاری ابواب الوتر ج٣ ص ٤١٢ . ظفیر

السماء والارض ثم بين له الفرق بينهما فاعتذر اليه وجلس عنده للتعلم ([1]) اهـ.
باقي دعمرو بن سعد او دعقبه بن عامر په روايت چي: اِنَّ اللهَ زَادَكُمْ صَلٰوةً وَهِيَ خَيْرٌ لَّكُمْ مِنْ حُمُرِ النَّعَمِ، حديث دى په دې سره هم پروجوب باندى استدلال كړى سوى دى او طريق داستدلال دادى چه په دى روايتونو كى دوترو دمشروعيت نسبت دخداى تعالٰى طرف ته كړى سوى دى بل داچه چونكه دمزيد عليه دجنس څخه زياتوالى كيدل پكاردى او ظاهره ده چه دفرائضو دجنس څخه واجب دى، ددى وجه په دى روايتونو سره دوجوب طرفته اشاره ګڼل سوى ده. لكه څنګه چه تعين او تحديد داوقاتو هم په دى روايت كى پردى باندى دلالت كوى چه وتر واجب دى. دلته په رارسيدلو سره شايد چه دچاپه ذهن كي بار بار داخيال نوكارى ولګوى، چه كه چيرى ددى رواياتو څخه وجوب ثابتيږى نوپكار ده، چه دسهار سُنتو ته هم واجب وويل سى ولى چه دسهار دسنُتو متعلق هم په همدى الفاظو سره داقسم روايت مروى دى حالانكه دهغى دوجوب هيڅوك قائل نه دى.
بيشكه چي دشُبهې په درجه كى كه چيرى يوه ستره خبره وى نوهغه داده. ليكن ددى هر څه باوجود دابوحنيفه رحمه الله وسعتِ نظر (پراخ ذهن) ته وګورى! چه كله امامِ موصوف رحمه الله دا وليدل چه دسهار په سُنتو او وتروكى په نسبت دټولو سُننو اونوافلو اګرچه زور لرونكي الفاظ استعمال كړل سوى دى ليكن ددى باوجود په تعامل كى دوترو اهتمام دسهار ترسُنتو زيات كړى سوى دى په صحابه ؤ رضي الله عنهم كى دهيڅا څخه په سفر اوحضر كى احيانًا هم تركِ وتر ثابت نه دى بل داچه درسول الله ﷺ څخه دمواظبة سره سره دوترو پرېښوولو ثابتيدل مشكل دى، اوپه كمه درجه كى چه هغوى ﷺ دوترو دتارك دپاره سخت وعيد فرمايلى دى، دسهار دسنتو دتارك دپاره ئى نه دى فرمايلى، پردى بنا باندى امام الائمه رحمه الله په دواړوكى دافرق وكى چى وتر ئى واجب اودسهار سنت ئى مؤكده وګرځول. دوترو دوجوب دلائل نورهم ډيردى ليكن داوخت پرهم دومره باندى په اكتفا كولو سره دمجيب صاحب په خدمت كى په ادب سره عرض كوم چه حضرت:
بيشكه موږ تسليموو چه په: الوتر واجب على كُلِّ مُسْلِمٍ، سره پردى وجوب باندى استدلال نسى كيدى، ولى چه په قول ستاسو دلته واجب په معنٰى دثابت دى، وجوب اصطلاحى مرادنه دى. دا اصطلاح مستحدث امر (يونوى شى) دى دا په حديث كى څنګه كيږى، داهر څه صحيح، ليكن حضرت! داخو وفرماياست چه په: ليس الوتر بحتم كهيئة المكتوبة ولكن سنة سنها رسول الله ﷺ رواه الترمذى، ([2]) سره دوجوب پرنفى او دوترو

([1]) البحر الرائق باب الوتر والنوافل ج٢ ص ٣٨. ظفير
([2]) ترمذي شريف باب ماجاء ان الوتر ليس بحتم ج١ ص٦٠ ، دحديث توري: ليس الوتر بحتم، نه دى بلكه: الوتر ليس بحتم دى. ظفير

پرسُنیت ځنګه استدلال کیدی سي، دلته تاسو څنګه معلومه کړه چي دسنت څخه یوازي سنتِ اصطلاحي مراددی کم چه دواجب څخه مغائر اوتر هغه دلاندی مرتبی دی. دلته دا ولی نه وایاست چه دسُنت څخه طریقه مرضیه مرادده کمه چه واجب اوسُنت ټولو ته شامله ده. لکه څنګه چه دروایت سیاق او سباق هم ددی خبری تائید کوی. په دی کی دهغه وجوب نفی ده کم چه دفرضو په شان وی، دمطلق وجوب نفی نه ده. موږ ته دی وښودل سی، چه ددی حدیث دکم لفظ څخه دوجوب نفی کیږی؟ داخو موږ هم مَنو چه په حدیث کی دوترو دفرضیت نفی سوی ده لیکن داخبره چه دسُنت څخه خالص سُنت اصطلاحی مراد دی کم چه واجب ته شامل نه دی، او دحدیث څخه دوجوب نفی کیږی دا څرنګه اوپه کمی قاعدی سره تاسو معلومه کړه؟ معلومیږی چه زموږ مجیب مجتهد ته دخپلی مقرر کړی قاعدی څخه چي ویلي وه (په حدیث کی اصطلاحی الفاظ مراد اخستل باطل دی، اصطلاح مستحدث امردی) دلته په رارسیدلو سره ضرور غفلت سوی دی، په دی وجه ددی مصداق سو: حَفَظْتَ شَيْئًا وَغَابَتْ عَنْكَ اَشْيَآءٌ، اوکه چیری زموږ مجیب صاحب دا فرمایی چه په حدیث کی اصطلاحي الفاظ کیدل ضروری خونه دی لیکن دلته دروایت دسیاق اوسباق څخه داسی معلومیږی چه دسُنّیت څخه سُنیتِ اصطلاحی مراددی عام نه دی کم چه واجب ته هم شامل دی. نو جنابه: اوّلاً خو دا دسیاق اوسباق څخه راوزی نه، بلکه برعکس دامعلومیږی چه دوجوبِ اصطلاحی نفی مقصود نه ده. او که چیری هم داسی سی لکه څنګه چه تاسی فرمایلی، نو زه هم وایم چه په: اَلْوِتْرُ وَاجِبٌ کی اصطلاح وجوب مراد دی، دلته دواجب څخه مسنون مراد نه دی. دا منمه چه: الایجاب قد یُطلق علی المسنون تاکیداً، لیکن داڅه ضروری ده چه دلته دی هم دواجب څخه مسنون مراد وی. ددی تاسی دلیل پیش کړی، کنې زه وایم که چیری ستاسی همدغسی سیاق اوسباق دی نو دلته هم داسي وګڼی چه حدیث: مَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا، رواه احمد (١)، ددی تقاضا کوی، چه په: اَلْوِترُ واجبٌ کی دواجب څخه مسنون مراد نه دی، بلکه هم هغه مراددی دکم چه ابوحنیفه قائل سوی دی ولی چه عُرفًا وجوب په معنٰی دلزوم مستعملیږی. بل داچه دا شدید وعید کم چه دامام محمد رحمه الله په روایت کی دی صرف پرترکِ واجب باندی کیدی سی.

غرض دا چه دا حدیث: لیس الوترُ بحتم کهَیئة المکتوبة الحدیث ، دوترو دسُنتیت په استدلال کی په هیڅ شان سره دپیش کیدلو لائق نه دی. پاته سو دابنِ ماجه اوخازن

(١) مشکوٰة عن ابی داود. باب الوتر ص ١١٣ . ظفیر

روایت: نوموړ ته زیات تعجب دی چه تاسی په خپل استدلال کی داسی ضعیف روایتونه ولی پیش کړل، کم چه دخازن روایت دی هغه خو ساقط الاسناد دی، او دابن ماجه روایت په صحیح طور باندی داسی دی: اِنَّ الْوِترَ لیس بِحَتْمٍ کَصَلٰوتِکم المکتوبة (١) اوداپه هیڅ شان دحنفیه ؤ معارض کیدی نسی، ولی چه حنیفه دداسی وجوب انکار کوی کم چه دفریضت په شان وی. او دابوداؤد هغه روایت په کم کی چه دادی: ان رجلاً من بنی کنانة سمع رجلاً بالشام یدعی ابا محمد المخدجی یقول ان الوتر واجب قال المخدجی فرحت الی عبادة بن الصامت فاخبرته فقال عبادة کذب ابو محمد سمعت رسول الله ﷺ یقول خمس صلٰوة کتبهن الله علی العباد. انتهی مختصراً. (٢) په دی کی عُباده ﷺ دفریضت نفی کړی ده. دواجبِ اصطلاحی یې نه ده کړی. دصحابه ؤ ﷺ په زمانه کی به دواجبو اطلاق پرفرضو باندی کیدی. همدا وجه ده چه یوسف بن خالد السمتي یوازي په واجب ویلو باندی ابوحنیفه ته کافر وویل، خوکله چې ابوحنیفه ﷺ دواجب حقیقت دهغه په وړاندي ښکاره کړئ اوپه واجب اوفرض کی یې ورته فرق وښووی نوهغوی ورته معذرت وکړی اودتعلیم په غرض ورته کښېنستی. خاص همدغه ډول عُباده ﷺ هم دابو محمد په واجب ویلو سره داسي وګڼل چه ابو محمد دوترو دفرضیت قائل سوی دی، ځکه یې ددی په آوریدلو سره وفرمایل چه ابومحمد دروغ وویل. مادرسول الله ﷺ څخه اوریدلي دی، چه ټول پنځه لمونځونه فرض دی کم چه الله تعالٰی پرخپلو بندګانو باندی فرض کړی دی (شپږم هیڅ لمونځ فرض نسته) داؤ اصل حقیقت، زموږ مجیب صاحب په خپلی ښه فهم سره داسي ګڼلي وه چه عُباده ﷺ دوجوب اصطلاحی نفی فرمایی، جزء ثانی ته یې ونه کتل چه ددی څخه دواجب بمعنٰی فرض نفی مقصود ده دمطلقًا واجب نفی مقصود نه ده. ددی روایت او دموطا دهغه روایت څخه چې په هغه کی دادی چه دحضرت ابن عمر ﷺ څخه پوښتنه وکړل سوه چه آیا وتر واجب دی؟ نوهغوی وفرمایل چه: اَوْتَرَ النَّبِیُّ والمسلمون (٣) صفا یې دا ونه فرمایل چه واجب دی یا واجب نه دی. معلومیږی چه دصحابه ؤ ﷺ په زړونوکی داخبره راسخه وه چه وتر اګر چه فرض نه دی، سُنت هم نه دی ولی چه ترسُنت په دی کی زیات تاکید راځی. همدا وجه ده چه ابن عمر ﷺ اَوْتَرَ النَّبِیُّ

---

(١) داحدیث په ترمذی کی په همدی الفاظو سره دحضرت علی ﷺ څخه مروی دی، وګوری ترمذی باب ما جاء ان الوتر لیس بحتم ج١ ص٢٠ ، لیکن په ابن ماجه کی په هغه الفاظو سره دی کم چه اولنی مجیب نقل کړی دی. وګوری ابن ماجه باب ماجاء فی الوتر ص ٨٣ . ظفیر

(٢) ابوداؤد باب من لم یوتر ج١ ص٢٠١ . ظفیر

(٣) مشکاة باب الوتر ص١١٣، الفاظ یې دادي: اوتر رسول الله صلی الله علیه وسلّم واوتر المسلمون. ظفیر

والمسلمون، په جواب کی وفرمایل، دایې ونه فرمایل چه مسنون دی. دمسنون ویلوڅخه راوګرځیدی. امام ابوحنیفه رحمه الله په دی منشاء باندی ښه پوه سو، هغه دوجوب قائل سو نه یې وتر سنت وګرځول اونه فرض. وذالك فضل الله یؤتیه من یشاء والله ذو الفضل العظیم. ([1]).

(٢). په دی جزء کی دحنیفه ؤ دوې ٢ مسئلې دی:

(١) وتر دری رکعته دی، یو رکعت هرګز وتر نسی کیدی.

(٢) او دا دری رکعته وتر په دؤو قعدو اویوه سلام سره دی په دؤو سلامو یا یوی قعدی سره نه دی.

دا دوې هغه مسئلی دی دکمو چه مجیب مجتهد پرحنفیه ؤ باندی په الزام لګولو سره انکار کوی، حالانکه اقرب الی الروایات بیشکه دحنیفه ؤ مذهب دی. په دی کی شك نسته چه بعضی روایت داسی هم سته په کمو سره چه په بادیُ النظر کی دوترو یو رکعت کیدل هم ثابت دی، لکه څنګه چه دابن عمر رضی الله عنهما په یوه روایت کی دی: ان النبی ﷺ قال الوتر رکعة من آخر اللیل، رواه النسایی ([2]) او دابو ایوب انصاری رضی الله عنه روایت: الوتر حق علی کل مسلم فمن احب ان یوتر بخمس فلیفعل ومن احب ان یوتر بثلاث فلیفعل ومن احب ان یوتر بواحدة فلیفعل ([3]) اودابن ماجه روایت: سئل ابن عمر رجل فقال کیف اوتر بواحدة قال انی اخشٰی ان یقول الناس البتیراء فقال سنة الله ورسوله یرید هذه سنة الله ورسوله ([4]). دادری روایتونه دی کم چه مجیب صاحب دوترو کم از کم دیوه رکعت کیدلو په استدلال کی پیش کړی دی، اودعویٰ یې کړی ده چه دوترو یو رکعت هم کیدی سی حالانکه په دی (روایتونو) کی دابو ایوب انصاری رضی الله عنه روایت خو موقوف دی. کما صرّح به الحافظ فی التلخیص (ای التلخیص الحبیر) وصحح ابو حاتم والزیلعی والدارقطنی فی العلل والبیهقی وغیر واحد. وهو الصواب. غرض داچه ددی حدیث رفع معلوله ده، موقوف والی یې صواب دی ([5]). پاته سو دابن ماجه اونسایی روایت ددوی هرګز دا مطلب نه دی چه یو رکعت بغیر دتقدیم دشُفعی څخه وتر دی بلکه مطلب دادی چه که چیری یو سړی صلوة لیل اوتهجد کوی نو دهغه په حق کی وتر آخر والا رکعت دی ولی

---

[1] مشکوٰة باب الوتر ص ١١٣ ، الفاظ یې داسي دی: اوتر رسول الله ﷺ واوتر المسلمون. ظفیر

[2] مشکوٰة عن مسلم باب الوتر ص١١١ . ظفیر

[3] مشکوٰة باب الوتر فصل ثانی ص١١٢ . ظفیر

[4] ابن ماجه باب ما جاء فی الوتر برکعة ص٨٣ . ظفیر

[5] یعني دحدیث مضمون دنبي کریم ﷺ قول نه دی ، بلکه قول دصحابي دی. حقاني ؔ

چه ددی یورکعت وتر جوړسو لکه څنګه چه ددی مقصد تائید دابن عمر ﷠ په بل روایت سره کیږی کم چه په بُخاری کی دی: قال النبی ﷺ فإذا اخشي احدکم الصبح صلی رکعة واحدة توتر له ما قد صلی. انتهی مختصراً، (١) اوپخپله دحضرت ابن عمر ﷠ هم دامذهب نه ؤو چه صرف یورکعت وتر دی بلکه دهغوی په نزد دری رکعته مفصولاً په دؤو قعدو سره اوپه دؤو سلامو سره کول جائز ؤ. لکه څنګه چه طحاوی دابن عمر ﷠ څخه نقل کړی دی چه هغوی به وتر دری رکعته کول. ددی راویتونو خو داحال ؤ، باقی په کثرت سره روایت صحیحه داسی سته دکمو څخه چه وتر صرف دری رکعته کیدل ثابت دی. وفی الطحاوی روایات کثیرة تدل علی ان اجماع المسلمین علی ان الوتر ثلث. اودحضرت عمر ﷜ دزمانی دتراویحو څخه همدا ثابتیږی. ستاسی دتسلی دپاره داسی روایتونه ذکر کوم دکمو څخه چه بالتصریح دوترو دری رکعته کیدل معلومیږی، په صحیح بخاری کی دی: عن ابی سلمة عن عبد الرحمٰن انه سئل عائشه کیف کانت صلٰوة رسول الله ﷺ فی رمضان فقالت ما کان رسول الله ﷺ فی رمضان وغیره علی احدی عشرة رکعة یصلی اربعًا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم یصلی اربعًا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم یصلی ثلاثًا قالت عائشه یارسول الله اتنام قبل ان توتر فقال یا عائشه ان عینیَّ تنامان ولا ینام قلبی، (٢) اوپه صحیح مسلم کی دی: عن ابن عباس ﷠ انه رقد عند رسول الله ﷺ فاستیقظ وتسوك وتوضا وهو یقول: ان فی خلق السمٰوٰت والارض واختلاف اللیل وانهار لآیات لاولی الالباب، فقرأ هٰولاءِ الآیات حتی ختم السورة ثم قام فصلی رکعتین فاطال فیها القیام والرکوع والسجود ثم انصرف فنام حتی نفخ ثم فعل ذٰلك ثلث مرّات ست رکعات کل ذٰلك یستاك ویتوضأ ویقرء هٰولاء الآیات ثمّ اَوتَر بِثِلاثٍ، (٣) دابوداؤد څخه ماسوا دسننو په ټولو کتابونو کی دی: عن سعید بن جبیر عن ابن عباس ان رسول الله ﷺ کان یوتر بسبح اسم ربك الاعلی وقل یایها الکٰفرون وقل هوالله احد. اسناده حسن (٤) او دترمذی څخه ماسِوا دسننو په ټولو کتابونو کی دی: وعن ابی بن کعب قال کان رسول الله ﷺ یوتر بسبح اسم ربك الاعلی وقل یٰایها الکٰفرون وقل هوالله احد. اسناده صحیح (٥) ، وعن عبد الرحمٰن بن اَبْزٰی انه

---

(١) مشکوٰة باب الوتر فصل اول ص١١١ . ظفیر

(٢) بخاری باب قیام النبی ﷺ باللیل ج١ ص١٥٤ . ظفیر

(٣) مشکوٰة باب صلوة اللیل ص١٠٧ . ظفیر

(٤) عمدة القاری. ابواب الوتر ج٣ ص ٤٠٥ . ظفیر

(٥) عمده القاری ابواب الوتر . ج٣ ص ٤٠٥ . ظفیر

صلی مع النبی صلی اللہ ﷺ الوتر فقرأ فی الاولٰی بسبح ربک الاعلٰی وفی الثانیۃ قل یٰایھا الکٰفرون وفی الثالثۃ قل ھو اللہ احد فلما فرغ قال سبحان الملک القدوس ثلثًا یمد صوتہ بالثالثۃ رواہ الطحاوی واحمد والنسائی واسنادہ (۱) حسن کما صرح بہ الحافظ فی التلخیص. ددی روایاتو څخه علاوه نور روایتونه هم په کثرت سته کم چه دتطویل دبیری څخه پریږدم. که چیری ضرورت وګنډل سو نوآئنده به یې انشآء الله ﷻ ذکر کړم.
ددی څخه وروسته زه ستاسو څخه پوښتنه کوم چه ددی صحیح روایاتو برخلاف دابن ماجه او ابو ایوب انصاری ﷺ روایت کم چه په اصل کی دهغوی فتویٰ معلومیږی مرفوع روایت نه دی، معمول بها جوړول اوجزمًا داویل چه یورکعت هم وتر دی آیا دا تعجب نه دی، روایات صحیحه پرېښوول اودیوه موقوف روایت ترمخه کم چه په حقیقت کی دابو ایوب انصاری ﷺ فتویٰ ده، یو ځوك جَری (دلاور) ناعاقبت اندیش (نتیجې ته پام نه کوونکی) سړی داسی ویلی سی، چه یورکعت هم وتردی، یوڅوك مجتهد هیڅکله داسی نسی ویلی.
الحاصل دوترو په یورکعت نه کیدلو اودری رکعته کیدلوکی خوهیڅ شبه نسته که چیری ګنجائش وی نوپه دی کی دی چه دادری رکعته وتر په دؤو قعدو او دؤو سلامو سره دی اوکه صرف په یوی قعدی اویوه سلام سره دی. حنفیه ددی دواړو صورتونو څخه ماسوا یودریم صورت اختیاروي په دؤو قعدو اویوه سلام سره دوترو کولو حکم ورکوی. اودا نه چه محض په تعصّب سره داسی کوی بلکه زموږ سره پردی باندی دلائل موجود دی، په صحیح مسلم ص۲۵۷ کی دی: ولفظه مختصراً، ویصلی تسع رکعات لا یجلس فیها إلا فی الثانیۃ فیذکر الله ویحمده ویدعوه ثم ینهض ولا یسلم ثم یقول التاسعۃ ثم یقعد فیذکر الله ویحمده ویدعوه ثم یسلم تسلیمًا یسمعنا، الحدیث.
امام بدر الدرین عینی ﷫ فرمایی اګر چه ددی روایت څخه دا ایهام کیږی چه نهه ۹ رکعته په دؤو قعدو اویوه سلام سره سوی دی. په مخکنی اؤو رکعتو کی هغوی ګرسره هم قعده نه ده کړی لیکن په حقیقت کی داخبره نه ده.
حضرت عائشي ﷻ دصلٰوۃ لیل دقعدو ذکرنه دی فرمایلی بلکه دوترو دمخکنی قعدی په ذکر فرمایلو سره ددری رکعتو وترو په دؤو قعدو اویوه سلام سره ثبوت ورکوی. په دومره فرمایلو سره امام بدرالدین عینی ساکت سویدی، ددی ثبوت یې ورنکړی چي فی الواقع دحضرت عائشي ﷻ همدا مطلب دی چه نبی ﷺ دوترو په دویم رکعت کی کم

(۱) نسائی شریف کیف الوتر بثلث ج۱ ص۲۴۸ ونصب الرایہ ج۲ ص ۱۱۹ . ظفیر

چه دمجموعه رکعتونو په اعتبار سره اتم کیږي قعده وکړه اوسلام یې لا ګرځولی نه ؤو چه ولاړ سو اودریم رکعت یې ورسره یوځای کړی او دآخری قعدی څخه وروسته یې سلام وګرځوی. ددی دلیل په نسایی کی دی.

همدا روایت نسائی متنًا اوسندًا راوړی دی: حدثنا سعید عن قتادة عن زرارة بن اوفی عن سعدبن هشام ان عائشة رضی الله عنها حدثته ان رسول الله ﷺ کان لایسلم فی رکعتی الوتر. (١)، نومعلومه سوه چه دحضرت عائشي رضی الله عنها دوینا مطلب دادی چه رسول الله ﷺ به دوترو کولو په وخت کی پردؤو رکعتو باندی قعده فرمایله او سلام به یې ددریم رکعت پوره کولو څخه وروسته ګرځوی. داحدیث صحیح الاسناد دی او دحنفیه ؤ حُجت دی لیکن حافظ محمد الدین ابو البرکات ابن تیمیه په منتقی کی دهمدی روایت دنقل کولو څخه وروسته دا لیکلی دی چه امام احمد ددی تضعیف کړی دی. حالانکه دتحقیق څخه معلومه سوی ده چه داروایت په دؤو سندونو سره مروی دی. امام موصوف چه په کم سند سره مسندِ احمد کی راوړی دی بیشکه هغه سند ضعیف دی. امام احمد رحمه الله دحدیث تضعیف نه دی کړی دسند تضعیف یې کړی دی، ولی چه په تخریج زیلعی کی دجهر بالتسمیه پرموقع باندی پخپله دامام احمد څخه دوترو په رکعتونو کی دوصل جواز مروی دی. نو هرو مرو امام احمد دمسندِ احمد دطریقې تضعیف کړی دی، ولی چه په هغه سند کی یزید بن یعفر دی، وهو ضعیف. غرض داچه دنسایی په روایت کی هیڅ کلام نسته هغه صحیح الاسناد دی. په مستدرك دحاکم کی یو روایت دی چه الفاظ یې دا دی: عن عائشة رضی الله عنها ان النبی ﷺ یوتر بثلاث لا یقعد الا فی آخرهن (٢) حافظ او دهغه په تقلیدکولوسره زموږ مجیب صاحب په دی روایت سره دمخکنی قعدی نفی کړی ده حالانکه حافظ جمال الدین زیلعی رحمه الله په تخریج کی ددی تصریح کړی ده چه په مستدرك حاکم کی داروایت په دی الفاظو سره وارد دی: یوتر بثلث لا یُسلِمِ الاَّ فی آخِرِهِنَّ، (٣) زیلعی په خپل نقل کی ثقه دی. دمستدرك په نسخه کی به دا الفاظ ضرور وی، او دمسندِ احمد روایت به ضعیف وی لیکن په هغه کی الفاظ دانه دی: یوتر بثلث لا یفصل بینهن. اوپه نسایی کی دی: عن ابی بن کعب نحوه ولفظه یوتر بسبح اسم ربك الاعلی وقل یایها الکفرون وقل هو الله احد ولا یسلم الا فی آخرهن (٤).

---

(١) نسائي باب کیف الوتر بثلث ج١ ص٢٤٨. ظفیر
(٢) عمدة القاری ابواب الوتر ج٣ ص٤٠٤ . ظفیر
(٣) ایضًا .
(٤) عمدة القاری ابواب الوتر ج٣ ص٤٠٤ . ظفیر

مطلب دادی چه نبی کریم ﷺ به وتر دری رکعته کول او داسی قعده په کمه کی چه سلام گرځول کیږی هغه به یې په آخره کی کوله. اوس تاسی په انصاف سره ووایاست چه ددی څخه داولني قعدی نفی څنګه راووته.
ددی روایت څخه ماسوا په یو بل روایت کي دی: کما فی الطحاوی ص١٧٢ : عن ابی هریرة عن رسول الله ﷺ لا توتروا بثلث واوتروا بخمس او بسبع او بتسع ولا تشبهوا بصلوة المغرب. حافظ ددی روایت څخه دمخکنۍ قعدی پرنفی باندی استدلال کوي چه دهغه حاصل دادی چه دری ٣ رکعته وتر په داسی شان سره کول چه په هغه کی دماښام دلمونځ سره مشابهت راسی، مثلاً په دؤو قعدو او یوه سلام سره دادا کولو څخه ممانعت سوی دی. په یوی قعدی اویوه سلام سره دا مشابهت نه پاته کیږی، ددی وجه څخه په حدیث سره دمخکنۍ قعدی نفی او ددویمی ٢ قعدی ثبوت کیږی.
موږ ته سخت تعجب دی چه دمخکنۍ قعدی پرنفی باندی داسی ضعیف استدلال ولی وکړل سو. دحدیث دویمی جملی ته یې ولی ونه کتل چی دهغې څخه بالتصریح دا معلومیږی چه دحدیث مطلب دادی چه مجرد (یعنی صرف) دری رکعته (تهجد) مه کوی چه دماښام دلمونځ سره مشابهت وسی بلکه پنځه ٥ یا اووه ٧ یا نهه ٩ رکعته کوی، او دوترو سره شفعه دهغه څخه مخکی یو ځای کوی دپاره ددی چه دماښام دلمونځ سره مشابهت پاته نسی. په ترمذی کی دی: عن ثابت البنانی قال قال انس یا ابا محمد خذ عنی فانی اخذت هٰذا عن رسول الله ﷺ واخذ رسول الله ﷺ عن ربه، ولن تأخذ عن أحد أوثق مني، قال ثم صلی بی العشاء ثم صلی ست رکعات یسلم بین الرکعتین ثم أوتر بثلاث یسلم فی آخرهن. رواه الترمذی سنداً وترك متنه وهٰذا المتن بعینه بهٰذا اللفظ فی کنز العمال ص ١٩٢ جلد رابع فی الافعال لا فی الاقوال، واحال علی الرویاني وابن عساکر وقال رجاله ثقات. داروایت هم داحنافو حُجت دی، ددی څخه صراحةً معلومیږی چه وتر دری رکعته دی اودا دری رکعته به په دؤو قعدو اویوه سلام سره کول کیږي، روایاتِ مرجوعه (١) نورهم ډیردی دکمو څخه چه دری ٣ رکعته وتر په دؤو قعدو او یوه سلام سره کیدل معلومیږی. دا وخت په هم دومره حصه باندی اکتفاء کوم. اوپه آثاروکی په کثرت سره داسی دی دکومو څخه چه وتر دری ٣ رکعته په دؤو قعدو اویوه سلام سره معلومیږی. داحنافو په نزد دپورته ذکر سؤو روایاتو پربنا باندی ثانی (طریقه) راجح ده. اویو رکعت وتر کیدل ماسوا دسعد بن ابی وقاص رضی الله عنه او معاویه بن ابو سفیان رضی الله عنه او

(١) روایاتِ مرجوعه: یعني هغه چي مولانا مشیت الله صاحب" رجوع ورته کړیده ددې بحث په لیکلوکي. حقاني"

ذی الورین ﷺ څخه دبل هیڅ یوه صحابی څخه ثابت نه دی. که چیری حافظ دا درې ۳ کسه صحابه کرام ﷺ جماعت ګرځوی نو دحافظ دا فرمایل چي: وصح عن جماعة من الصحابة انهم اوتروا بواحدة من غير تقدم نفل قبلها، به درست وی، پردرو ۳ باندی دجماعت اطلاق کیدی سی لیکن داحنفیهٔ ته مُضرنه دی ځکه چه حنفیه چي دکمی خبری قائل دی دهغې په تائیدکی دجَمِّ غفیر (غټي ډلي) صحابهٔ ﷺ څخه آثار مروی دی. په مصنف ابن ابی شیبه کی دی: حدثنا حفص بن عمرو عن الحسن انه قال اجمع المسلمون على ان الوتر ثلثة لايسلم الا فی آخرهن ([1]) وفيه عمرو بن عبيد وهو معتزلی. په عینی کی دی: وابی بن کعب وابن عباس وانس وابوامامة وعمربن عبدالعزيز والفقهاء السبعة واهل الكوفة، وقال الترمذی ذهب جماعة من الصحابة وغيرهم اليه. آه، کله چه دترمذی په تصریح سره دصحابهٔ ﷺ یو عدد ([2]) (یعنی شمېر) دحنیفهٔ موافق معلومیږی نو اوس دحافظ په تصریح سره زموږ مجیب صاحب ته خوشحال لیدل نه دی پکار. حافظ ابن حجر ﷫ چه چاته جماعت وایی، دهغه په پرتله لس (۱۰) چنده دحنفیهٔ طرفته دصحابهٔ ﷺ عدد موافق دی، اوعجیبه داده چه آجِلاًء او کبار (غټ) صحابه کرام ﷺ دحنفیهٔ موافق دی. قيل للحسن ان ابن عمر كان يسلم فی الركعتين من الوتر فقال كان عمر افقه منه وكان ينهض فی الثانية بالتكبير، ([3]) ددې بیانونو دیادولو او کتلو څخه وروسته یوازې یوڅوك متعصب معانِد ویلی سی، چه دامامِ ابوحنیفه (ﷺ) مذهب درواياتو څخه خلاف دی. غیرِ متعصب او فهیم هیڅکله داسی نسی ویلی بلکه هرڅومره تحقیق او تفتیش چه وکړل سی بیا هم دامامِ ابوحنیفه (ﷺ) مذهب اقرب الی الروايات معلومیږی.

(۳) دا جُزء (حصه) دجواب مجمله ساتل سوی دی، تشریح غواړی. معلومه نه ده چه دقنوت څخه یې څه مراد اخستی دی که چیری قنوت نازله مراد وی نو حنفیه هم وایی چه بعد الركوع ویل پکار دی. اوکه چیری قنوت دوتر مراد وی، نوبیا داویل صحیح نه دی چه دنبی کریم ﷺ څخه بعد الركوع په وتروکی قنوت ویل ثابت دی ولی چه په کومو روایتونو کی قنوت بعد الركوع ویل ثابتیږی دهغو صحیح مَحْمَل دادی چه هغه دقنوتِ نازله حکم دی.

په بحر الرائق ج۱ص ۴۰ کی دی : وقنت فی ثالثة قبل الركوع ابداً لما اخرجه النسائی

([1]) عمدة القاری ابواب الوتر ج۳ ص ۴۰۴ . ظفير

([2]) مقصد یې یو لوی جماعت او ټولګی ده دصحابه کرامو ﷺ. ظفير

([3]) نصب الرايه باب صلوة الوتر ج۲ ص ۱۱۸ . ظفير

عن ابیّ بن كعب انه عليه السّلام كان يقنت قبل الركوع وما في حديث انس انه عليه السّلام قنت بعد الركوع فالمراد منه ان ذلك كان منه شهراً فقط بدليل ما فی الصحيح عن عاصم الاحول سالتُ انسًا عن القنوت فی الصلوة قال نعم قلت أكان قبل الركوع او بعده قال قبله قلت فانَّ فلانًا اخبرنی عنك أنَّك قلتَ بعده قال كذب انماقنت رسول الله ﷺ بعد الركوع شهراً، نومعلومه سوه چه په وتروكی قنوت قبل الركوع ويل پكاردی.

پاته سوه قنوت نازله نو په دی كی قبل الركوع اوبعد الركوع دواړه ډوله اقوال سته په ردالمحتار كی دی: وهو صريح فی ان القنوت النازلة عندنا مختص بصلوة الفجر دون غيرها من الصلوة الجهرية والسرية وهل القنوت هنا قبل الركوع او بعده لم اره، والذی يظهر لی انه يقنت بعد الركوع لا قبل بدليل ان ما استدل به الشافعی علی قنوت الفجر فيه التصريح بالقنوت بعد الركوع، حمله علمآئنا علی قنوت النازلة ثم رأيت الشرنبلالی فی مراقی الفلاح صرح بانه بعده واستظهر الحموی انه قبله، والاظهر ماقلناه. [١] والله اعلم، ددی عبارت څخه معلوميږی چه باوجود ددی چه په قنوتِ نازله كی دوه قوله دی قبل الركوع او بعد الركوع. حنفيه مشائخ ددواړو طريقو دجواز حكم لگوی ليكن راجحه داده چه قنوتِ نازله دي بعد الركوع ولوستل سی. فقط

محمد مشيت الله (الديوبندی)
(رَحِمَهُ اللّٰه تعَالٰی رَحْمَةً وَاسِعَةً)



فصل ثانی دقنوتِ نازله مسائل

ايا قنوت نازله دسهار په لمونځ كی درسته ده: سوال: (١٢٢۴) داحنافو په نزد دسهار په لمونځ كی كم وخت په لاسونو لوړولو سره دُعاء قنوت يا: اَللّٰهُمَّ انْصُرْ مَنْ نَصَرَ دِيْنَ مُحَمَّد ﷺ يابله يوه دُعا جائز ده اوكه نه؟ كه چيری يوڅوك حنفی چاته چي دفقهی علم وي يا نه وی، خوهغه امام شافعی (رضي الله عنه) يا امام احمد (رضي الله عنه) يا امام مالك (رضي الله عنه) ته دحقارت (سپكوالي) په نظر گوری، نو آيا هغه پوخ حنفی كيدی سی اوكه نه؟

جواب: دحنفيانو په نزد ديوې حادثې دنزول په وخت كی صرف دسهار په لمونځ كی دركوع څخه وروسته په دويم ٢ ركعت كی دلاس پورته كولو څخه بغير ددُعاءِ قنوت ويل جائز دی اوپه باقی لمونځونو كی جائز نه دی. او دحادثې دنزول څخه بغير په هيڅ يوه

[١] ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج٢ ص ٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١ . ظفير

لمونځ کی هيڅ وخت جائز نه دی. په شامی کی دی: قال الحافظ ابو جعفر الطحاوی انما لا يقنت عندنا فی صلوٰة الفجر من غير بلية فان وقعت فتنة او بلية فلا باس به فعله رسول الله ﷺ (١) اوددی څخه وروسته په شامی کی دی: ان قنوت النازلة عندنا مختصّ بصلوٰة الفجر دون غيرها من الصلوات الجهرية والسرية. (٢) اوبيا په همدی کتاب کی دی: وانه يقنت بعد الرکوع لا قبله. (٣)

څلور واړه امامان په خپل خپل مذهب کی ټول پرحق دی او دهغوی اختلاف د: اِخْتِلاَفُ اُمَّتِیْ رَحْمَةٌ، دقبيلې څخه دی. په دی وجه هيڅ يوه مقلد لره جائز نه دی چه يوه امام ته دحقارت په نظر وګوری بلکه مقلد لره پکاردی چه هغه دی دخپل امام مذهب صواب محتمل دخطاء وګڼی، اودبل امام مذهب دی خطا خومحتملِ دصواب وګڼی. په درمختار کی دی: فيها لو سُئلنا عن مذهبنا ومذهب مخالفنا قلنا وجوبًا مذهبنا صواب يحتمل الخطاء ومذهب مخالفنا خطاء يحتمل الصواب. (٤) فقط

قنوتِ نازله: **سوال**: (١٢٢٥) دسهارپه لمونځ کی دحوادثو پرموقع قنوتِ نازله ويل کيږي، ددی حواله پکارده.

په قنوتِ نازله کی به لاسونه تړی اوکه نه؟ **سوال**: (١٢٢٦) په مذکوره قنوت کی به امام او مقتديان لاسونه ايله کوي او که به يې تړی، لکه څنګه چه يې په وترو کی تړی او آمين به په جهر سره وايی او که پټ؟

جواب: (١) قنوت په حوادثو کی دسهار په لمونځ کی دحنفيه ؤ په نزد ثابت او معمول به دی، قال فی الشامی وهو صريح فی ان قنوت النازلة عندنا مختص بصلوٰة الفجر (٥) الخ (٢) امام اوجماعت به په ظاهره په دی موقع کی ارسال کوی ځکه چه داقنوت بعدالرکوع ده. کما صرح به فی الشامی والذی يظهر لی ان المقتدی يتابع امامه الا اذا جهر فيؤمن وانه يقنت بعد الرکوع لا قبله (٦) الخ، اوظاهره ده چه قَومه محل دارِسال ده، نه محل دقبضِ يدين. او قياس پروترو باندی نسی کيدی ځکه چه په هغه کی قنوت درکوع څخه مخکی دی اوهغه محل دقراءت اومحل دقبض يدين دی اوآمين که په جهر سره ووايی اوکه په پټه (دواړه درست دی)، والثانی اولی لانه دُعاء والاخفاء بالدعاء اولی. فقط

(١)ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج٢ ص ٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١ . ظفير
(٢) ايضاً .
(٣) ايضاً .
(٤) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مقدمه ج١ ص٤٥ . ظفير
(٥) ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت والنازلة ص ٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١. ظفير
(٦) ايضًا ، ط. س. ج٢ ص١١ . ظفير

داحنافوپه نزد قنوت نازله درکوع څخه وروسته اوصرف دسهار په لمونځ کې ده: سوال:

(١٢٢٧) قنوتِ نازله درکوع څخه مخکې ویل پکاردي اوکه درکوع څخه وروسته اوپه کمو کمو لمونځونو کې ویل کیږي، اولاسونه به تړي اوکه ایله کوي به یې، یاپورته کوي به یې. او داحنافو په نزد دوترو قنوت درکوع څخه مخکې ویل کیږي، آیا دقنوتِ نازله حکم ددې څخه جلادی؟ که جلا وي نوپه کم دلیل سره؟ اوداحنافوپه نزد چه داکمه قاعده ده چه هرذکر طویلِ مسنون چې وي په هغه کې لاسونه تړل کیږي، ددې څه ماخذ دی؟ کم لاسونه تړل چه دتکبیرِ تحریمه څخه وروسته ثابت دي هغه رکوع ته دتللو په وخت کې ختم کیږي. اوس درکوع څخه وروسته دریدل یوجدید اونوی کار دی په دې کې ارسال اواعتماد دحضور ﷺ یادصحابه ؤ ﷺ دآثاروڅخه ثابت دي اوکه نه؟ اودامام ابویوسف دافعل چه هغوی به قنوت دلاسونو دلوړولو څخه وروسته وایه او صاحب دفتح القدیر چه کم یوروایت په سند دابو هریره ﷺ بیان کړی دی چې: کان النبی ﷺ اذا رفع راسه من الرکوع من صلٰوۃ الصبح فی الرکعۃ الثانیہ یرفع یدیہ فیدعوا بھٰذہ الدعاء ، اللّٰھم اھدنی فیمن ھدیت الخ آیا ددې حدیث په وجهې سره دابویوسف رحمه الله فعل ته قوت ستنه او که نه؟ او داحنافو مفتٰی به قول څه دی؟

جواب: قنوتِ نازله درکوع څخه وروسته ده اوحنفیه ؤ صرف دسهار په لمانځه کې دا اختیار کړیده. اواګرچه بعضی فقهاؤ په ټولوجهری لمونځونوکې هم جائز بللی ده (١) او دفقهی او دحدیثو دکتابونو څخه واضحه ده چه قنوتِ صبح کمه چه حنفیه ؤ په نوازلو کې غیرِ منسوخ منلی ده هغه بعد الرکوع ده، اوپه دغه وخت کې ارسال اولٰی معلومیږي (٢) ولې چه درفع جواب صاحب دفتح القدیر داورکړی دی دامام ابویوسف داستدلال چه

---

(١) قال الحافظ ابو جعفر الطحاوی انما لا یقنت عندنا فی صلوۃ الفجر من غیر بلیۃ فان وقعت فتنۃ او بلیۃ فلا باس به فعله رسول الله ﷺ واما القنوت فی الصلوات کلها للنوازل فلم یقل به الاّ اشافعی الخ وهو صریح ان القنوت النازلة عندنا مختص بصلاۃ الفجر دون غیرها من الصلوۃ الجهریة والسریة وفی شرح النقایۃ معزیًا الی الغایۃ وان نزل بالمسلمین نازلة قنت الامام فی صلاۃ الجهر (ردالمحتار باب الوتر والنوافل، مطلب فی قنوت النازلة ج١ ص٢٢٨ ، ط.س. ج٢ ص١١) وهو قول الثوری واحمد وقال جمهور اهل الحدیث القنوت عند النوازل مشروع فی الصّلٰوۃ کلها آه (البحر الرائق باب الوتر والنوافل ج٢ص٤٤). ظفیر

(٢) وهل القنوت هنا قبل الرکوع ام بعده لم اره والذی یظهر لی ان المقتدی یتابع امامه الاّ اذا جهر فیؤمن وانه یقنت بعد الرکوع لا قبله بدلیل ان ما استدل به الشافعی علی قنوت الفجر وفیه التصریح بالقنوت بعد الرکوع حمله علمائنا علی القنوت للنازلة ثم رأیت الشرنبلالی فی مراقی الفلاح صرّح بانه بعده واستظهر الحموی انه قبله والاظهر ماقلناه والله اعلم (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج١ ص٢٢٨، ط. س. ج٢ ص١١). ظفیر

په هره دعاء کی رفع کیدل داکلی نه ده بلکه مخصوص ده په هغه دُعاء سره کمه چه خارج عن الصلوٰة وی. ولکلٍ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا. نوپه دی کی دزیات بحث ضرورت نسته. دهر یوه قول یو وجه راوتلی سی اودروایاتو دنقل کولو راته فُرصت نسته. فقط

دقنوت نازله په وخت کی دی لاسونه ایله لری او مقتدیان دی په کراره آمین وایی: سوال: (١٢٢٨) ددارالعلوم دیوبند څخه چه کمه دعاءِ قنوت چهاپ سوی ده په دی زمانه کی دویلو دپاره شائع سوی ده، دهغی په ترکیب کی دوې ۲ خبری دپوښتني قابلی دی اول داچه ددُعا ویلو په وخت کی به لاسونه ایله وی اوکه لوړوی به یې لکه څنګه چه ددُعا دپاره لوړول کیږي. بل دا چه مقتدیان به آمین بالجهر وایی اوکه په پټه؟

جواب: دسهار په لمونځ کی درکوع څخه وروسته په دی زمانه کی چي کمه دُعاء قنوت ویل کیږی په هغه کی زموږ معمول دادی چه لاسونه ایله وی، ولی چه په دی موقع کی لاس تړل نه دی راغلی اولوړول یې هم دحنفیهؤ دقواعدو سره سمون نه خوری، ددی وجه څخه اَحْوط او بهتره دامعلومیږی چه لاسونه دی ایله وی او مقتدیان دی آمین په پټه وایی. ([1]) فقط

قنوت نازله په ماښام اوماخستن کی درست ده اوکه نه؟ سوال: (١٢٢٩) اوریدلی مودی چه په دیوبند کی یوه فتویٰ چاپ سوی ده په کمه کی چه دماخستن دلمونځ په آخری رکعت کی دُعا ویل لیکلی دی؟

جواب: دلته چه کمه دُعاء قنوت چاپ سوی ده په هغې کی یې دسهار دلمانځه څخه وروسته دُعاء قنوت ویل لیکلی دی. اوبعضو (عالمانو) په ماسخوتن اوماښام کی هم جائز لیکلی ده . ([2]) فقط

په فرض لمونځ کی دوَبا ددفع کیدلو دپاره دُعا: سوال: (١٢٧٠) دوبا دمرض په ورځو کی دفرائضو دجماعت یاخاص دماښام اوسهار په جماعت کي امام یوڅو دُعاګانی دوبا دلیری کیدلو دپاره وایی اوټول مقتدیان په لوړ آواز آمین وایی. داسی عمل کول په فرض جماعت کی شرعًا جائز دی اوکه نه؟

جواب: په شامی کی دی چه دیوې حادثی په وخت کی دسهار په لمونځ کی درکوع څخه تر ولاړیدلو وروسته امام لره دُعاء قنوت ویل درست دی. ماسِوا دسهار څخه په نورو لمونځوکی دحنیفهؤ مذهب نه دی. دا دامام شافعی رحمه الله مذهب دی، اوداهم په شامی

([1]) ان المقتدی یتابع امامه الاّ اذاجهر فیؤمن (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١). ظ

([2]) ولا یقنت لغیره الاّ لنازلة فیقنت الامام فی الجهرية وقیل فی الکل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١). ظفیر

کی دی: ولا شك ان الطاعون من أشدِّ النّوازل (1). ددی وجه دطاعون په وخت کی هم دعاء قنوت دسهار په لمونځ کی درکوع څخه وروسته ویل درست دی. (2)

دجنګ طرابلس دپاره قنوت نازله: **سوال**: (۱۲۷۱) څه ارشاد دی ددین دعالمانو په دی مسئله کی چه موجوده جنګ دطرابلس کم چه دمسلمانانو اوعیسائیانو په مینځ کی قائم دی، که چیری دمسلمانانو دنصرت او دعیسائیانو دهزیمت دپاره په هندوستان یا بَرْمَا (دیو هېواد نوم دی) کی دعاء قنوت وویل سی نو په حنفی مذهب کی دا صحیح ده اوکه نه؟ آیا په نازله جنګ وغیره کی چه کمه دُعاء قنوت ویل کیږی دهغه دپاره داخبره شرط ده چي خاص خلیفه یاسلطان دی ووایی. دحاشیهٔ شامی، بحر الرائق، کبیری او فتح القدیر دملاحظه کولو څخه وروسته دي ددی جواب تحریر وفرمایل سی. فقط

جواب: قنوت نازله عند الحنفیه جائزده، مکروه نه ده. اوپه شامی کی دی چه که چیری امام جهراً قنوت وایی نو مقتدیان دی آمین وایی. ددی څخه معلومه سوه چه دمقتدیانو دواقفیت (خبرتیا) په وجه که جهر وکړی اومقتدیان آمین ووایي نو کراهت پکښی نسته. د خلیفه یا سلطان قنوت ویل دنازلی په وخت کی شرط نه دی. هٰذا کله فی الدر المختار والشامی. (3) (دستخط مع مُهر)

دایټالیا دجنګ پرموقع قنوت نازله: **سوال**: (۱۲۷۲) فی الحال چه دایټالیا په عیسائیانو او مسلمانانوکی کم جنګ روان دی پردی موقع باندی دقنوتِ نازله په پنځوواړو لمونځونو کی دآخری رکعت درکوع څخه وروسته په ویلو کي عندالاحناف څه حکم دی؟

جواب: دفقهاءِ عظامو رحمهم الله کلام په دی باره کی مختلف دی: ولا یقنت لغیره الاّ النازلة فیقنت الامام فی الجهریة وقیل فی الکل. په شامی کی دي: واما القنوت فی الصلوة کلها للنوازل فلم یقل به الا الشافعی، وفیه تحت قوله فی الکل الخ قد علمت ان هذا لم یقل به الا الشافعی وعزا فی البحر الی جمهور اهل الحدیث فکان ینبغی عزوه الیهم لئلا یوهم انه قول فی المذهب وفیه ایضا اذا وقعت نازلة قنت الامام فی الصلوة الجهریة لکن فی الاشباه عن الغایة قنت فی صلوة الفجر ویؤیده ما فی شرح (4) المنیة

---

(1) ردالمحتار باب الوتر مطلب فی القنوت للنازلة ج۱ ص۶۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱. ظفیر

(2) ولا یقنت لغیره الاّ لنازلة فیقنت الامام فی الجهریة وقیل فی الکل (درمختار) قال فی الصحاح النازلة الشدیدة من شدائد الدهر ولاشك ان الطاعون من اشد النوازل الخ وهو صریح فی ان قنوت النازلة عندنا تختص بصلاة الفجر دون غیرها من الصلوات الجهریة اوالسریة (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج۱ ص۶۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱). محمد ظفیر الدین غفرله

(3) وګوری ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج۱ ص۶۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱. ظفیر

(4) وقد صرح به الشامی حیث قال وهو صریح فی ان قنوت النازلة عندنا مختص بصلاة الفجر دون غیرها من =

الخ شامی ج١ ص ٢٢٨. نومعلومه سوه چه عند الحنفيه صرف دسهار په لمونځ کی دنازلی په وخت کی دی قنوت وایی. لا غیره. فقط، والله تعالٰی اعلم، کتبه عزیز الرحمٰن.

دکم امام په نزد قنوت نازله دسهار په لمونځ کی ده؟ **سوال**: (١٢٧٣) نن صبا دسهار په لمونځ کی دعاء قنوت ویل دکم امام مذهب دی؟

جواب: دداسی حوادثو په وخت کی دعاء قنوت دسهار په لمونځ کی حنفیه ؤ هم جائز لیکلی (١) ده. فقط (لما رواه الامام ابوحنيفة عن ابن مسعود رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ لم يقنت فی الفجر قط الاً شهراً واحداً لم يرَ قبل ذالك ولا بعده وانما قنت شهراً يدعو علٰی قوم من العرب ثمّ تركه (البحر الرائق. باب الوتر ج٢ ص۴۴، ظفير).

قنوت نازله په جُمعه کی درست ده که نه؟ **سوال**: (١٢٧۴) قنوتِ نازله دجُمعی په لمونځ کی ویل جائز دی اوکه نه؟

جواب: دبعضو روایاتونو موافق په کوموکی چه یې په ټولو جهری لمونځونو کی قنوتِ نازله ویل جائز لیکلی دی، ددې پربناء دجُمعی په لمونځ کی هم درست دي. (٢)

قنوت نازله جائزده اوکه نه اوکه جائز ده نو ولې؟ **سوال**: (١٢٧۵) په دی زمانه کی چه کمه دعاء نازله ویل کیږی دادُعا دسهار په لمونځ کی داحنافو په نزد جائز ده اوکه نه؟ که چیری جائزوی نو دایت: لَيْسَ لَكَ مِنْ الْاَمْرِ شَيْءٌ، څه جواب دی؟ اوپه دی دُعاء نازله کی اوپه قنوت کی، کمه چه نبی کریم ﷺ هغه وخت ویله کله به یې چه یوې قبیلې یاقوم ته ښراوی کول وغوښتل، فرق سته او که نه؟

جواب: دنازلی په وخت کی دُعاء قنوت وغیره دسهار په لمونځ کی په اتفاق سره دحنفیه ؤ جائزده. په درمختار کی دی: ولا يقنت لغيره الا لنازلة الخ (٣). وفی الشامی وهو صريح فی ان قنوت النازلة عندنا مختص بصلوٰة الفجر الخ (۴) وفيه عن شرح المنية فتكون شرعيته ای شرعية القنوت فی النوازل مستمرة وهو محمل من قنت من الصحابة بعد

= الصلوات الجهرية والسرية الخ قنوت نازله دي وروسته تررکوع وایی قبل الرکوع دی نه وایی: قال فی الشامی وانه يقنت بعد الركوع لاقبل بدليل ان ما استدل به الشافعی علٰی قنوت الفجر وفيه التصريح بالقنوت بعد الركوع حمله علماءنا علٰی القنوت للنازلة الخ (شامی باب الوتر ج١ ص٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١). ظفير

(١) ولا يقنت لغيره الاً لنازلة فيقنت الامام فی الجهرية وقيل فی الكل (درمختار) وهو صريح عندنا ان قنوت النازلة عندنا مختص بصلاة الفجر دون غيرها من الصلوٰة الجهرية والسّرية (الدرالمختار) باب الوتر ج١ ص٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١). ظفير

(٢) فيقنت الامام فی الجهرية (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١).

(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتروالنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج١ ص٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١. ظ

(۴) ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج١ ص٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١ . ظفير

وفاته عليه الصلوٰة والسلام وهو مذهبنا وعليه الجمهور، (١) نوكله چه معلومه سوه چه دجمهورو مذهب همدادی اوصحابه ؤ رضی الله عنهم دحضور ﷺ دوفات څخه وروسته قنوتِ نازله ويلی ده نواوس دهيڅ شبهی ګنجائش نسته، اوددی جواب ضرورت نسته. او دآيت: لَيْسَ لَكَ مِنْ الْاَمْرِ شَيْءٌ، په شان نزول کی اختلافِ کثير دی. په قنوتِ نازله کی نزول ددی متعيّن څخه دی. کما صرّح به فی المعالم چه دجواب ضرورت يې سي. اودامام طحاوی رحمه الله قول پخپله په شامی کی دامنقول دی: قال الحافظ ابوجعفر الطحاوی انما لا يقنت عندنا فی صلوة الفجر من غير بلية فان وقعت فتنة اوبلية فلا باس به فَعَلَه رسول الله ﷺ (٢) الخ. فقط

قنوت نازله په ټولو جهری لمونځونو کی ده اوکه صرف دسهار په لمونځ کی؟ سوال: (١٢٧٢) داحنافو دصحيح مذهب اوراجح اقوالو په اعتبارسره قنوتِ نازله صرف دَسهار په لمونځ کی ويل پکاردی اوکه په ټولو جهری لمونځونوکی يې ويل ضروری دی؟ که چيری يو څوك امام صرف دسهار په لمونځ کی قنوت وايی اوپه نورو جهری لمونځونوکی يې نه وايی نوپه هغه باندی به په زورسره په باقی لمونځونوکی ويل کيږی اوکه نه؟ قنوتِ نازله دسهار دلمونځ څخه علاوه په نورو لمونځونوکی منسوخ ده اوکه نه؟ اوحضور ﷺ قنوتِ نازله ترکم وخته پوری ويلی ده ترڅو چه به هغه کارپوره سو اوکه مخکی به يې ترك کړه؟

جواب: دحنفيه ؤ په نزد راجح داده چه قنوتِ نازله صرف دسهار په لمونځ کی ده، په ټولو جهری لمونځونوکی اګرچه دبعضو کتابونوڅخه ددی هم اجازت معلوميږی. پرهر حال که چيری يوڅوك امام صرف دسهار په لمونځ کی دُعاء قنوت نازله وايی اوپه نورو جهری لمونځونوکی يې نه وايی نوپر هغه باندی دجَبر کولو ضرورت نسته چه په ټولو جهری لمونځونوکی دی وايی ولی چه دا (خبره) عند الحنفيه مختلف فيه ده. نواَحْوَط او معمول داکابرو صرف دسهار په لمونځ کی ده. کمافی الشامی بعد نقل کلام الامام الطحاوی: وهو صريح فی ان قنوت النازلة عندنا مختصة بصلوة الفجر دون غيرها من الصلوات الجهرية اوالسرية (٣) الخ. اوددی څه تحديد منقول نه دی چه حضور ﷺ يادحضور ﷺ څخه وروسته صحابه کرامو رضی الله عنهم چه کم قنوت دنوازِلو په وخت کی ويلی دی هغه يې تر کمه وخته پوری ويلی دی. ظاهره داده چه دنازلی تررفع پوری به يې ويلی وی، کمه چه ددی دمشروعيت وجه ده. همدارنګه فقهاؤ هم ددې څه تحديدنه دی کړی، اودايې فرمايلي دي: ولا يقنت لغيره الاّ لنازلة الخ. (٤) درمختار، ظاهراً دلفظ د: اِلاّ لنازلةٍ څخه

---

(١) و(٢) و(٣) و(٤) ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج١ ص٦٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١. ظفير

معلومیږی چه ترکمه وخته پوری هغه نازله موجوده وی نو مذکوره دُعا مشروع ده. او دانس ﷛ په حدیث کی دی: انّ النبی ﷺ قنت شهراً ثم ترکه رواه ابوداؤد والنسائی. (١) دیوی میاشتی څخه وروسته ترك فرمایل دهغوی به یاپه دی وجه وی چه مقصد پوره سو اودعا مقبوله سوه اودبد دُعا آثار ظاهریدل شروع سوه یابه هغوی ته حکم سوی وی چه اوس یې ترك کړئ اوس یې ضرورت پاته نه سو. پرهر حال اوس ددی مشروعیت دنازلی تربقا پوری عند الفقهاء مسلّم دی. فقط

دقنوت نازله جواز او ددی ثبوت: **سوال**: (١٢٧٧) قنوتِ نازله کمه چه تقریبًا دکال راهیسی ویل کیږی پردی باندی بعضی مسلمانان دا اعتراض کوی چه ددی ویل جائز نه دی او دانس ﷛ په حدیث سره ددی ویل موقوف سوی دی. وعن انس ان النبی ﷺ قنت شهراً ثم ترکه رواه ابوداؤد. په: ثُمَّ تَرَكَ سره ددی پرې ښوولوته فرض وایی اوداهم وایی چه زموږ په مذهب کی پرچا باندی لعنت یا ملامتیا کول یا بد دُعا کول هم جائز نه دی. په حدیث اوقول دامام سره ددی ثبوت غواړی چه د: ثُمَّ ترکه څخه وروسته حضور ﷺ ددې دویلو دپاره ارشاد فرمایلی وی.

جواب: په درمختار کی دی: ولا یقنت لغیره الا لنازلة فیقنت إمام فی الجهریة وقیل فی الکل الخ اوپه ردالمحتار معروف په شامی کی دی: (قوله فی الجهریة) یوافقه ما فی البحر والشرنبلالیة عن شرح النقایه عن الغایة وان نزل بالمسلمین نازلة قنت الامام فی صلاة الجهریة وهو قول الثوری واحمد آه وکذا ما فی شرح الشیخ اسمٰعیل عن البنایة اذا وقعت نازلة قنت الامام فی صلٰوة الجهریة لکن فی الاشباه عن الغایة شرعیة القنوت فی النوازل مستمرة وهو محمل قنوت من قنت من الصحابة ﷡ بعد وفاته علیه الصلوٰة والسلام وهو مذهبنا وعلیه الجمهور قال الحافظ ابو جعفر الطحاوی انما لا یقنت عندنا فی صلٰوة الفجر من غیر بلیة فان وقعت فتنة او بلیة فلا بأس به فعله رسول الله ﷺ الخ الی ان قال وهوصریح فی ان النازلة عندنا مختص بصلٰوة الفجر دون غیرها من الصلوات الجهریة والسریة (٢) الخ.

ددی عباراتو څخه واضحه سوه چه عند الحنفیه بلکه عند الجمهور قنوت نازله دحضور ﷺ دوفات څخه وروسته هم مشروع ده. نوکم سړی چه ددی څخه انکار کوی هغه داهلِ حق دټولو امامانو څخه مخالف دی، او ددینی کتابونو څخه ناخبره دی. ولی چه ظاهره ده چه که چیری قنوتِ نازله منسوخ سوی وی نودحضور ﷺ دوفات څخه وروسته صحابه

(١) مشکوٰة باب القنوت فصل ثانی ص ۱۱۴ . ظفیر

(٢) ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج۱ ص۶۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱. ظفیر

کرا مو ﷺ دامعمول بِهِ ولی جوړوله؟ وکفٰی بهم قدوۃ.
نازله منسوخ ګڼل صحیح نه دی ولی چه دثمّ ترکه دامعنٰی ده چه دیوی میاشتی څخه وروسته حضور ﷺ داپریښوده ولی چه مثلاً ضرورت باقی پاته نه سو اوکم غرض چه ؤ هغه حاصل سو وغیره. اوپرکافرانو باندی لعنت دآیتونو او احادیثو برابر ثابت دی. قال الله تعالٰی: فَلَعْنَةُ اللهِ عَلَى الْكَافِرِينَ (۱) ، إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ (۲) ، همدغه شان په کثرت سره دآیتونو اواحادیثو څخه پرکفّارو لعنت ثابت دی، ماسوا دجاهل اومُعانِد څخه بل څوك ددی څخه انکار کولی سی؟ الغرض حنفیانو لره دخپلوائمه ؤ داقوالو اودفقهی دکتابونو په تفصیل اوتشریح کتلوسره په دی باندی عمل کول پکاردی. دامامانو دمنکرینو یعنی دغیرِ مقلدینو دفرقی خبره اوریدل نه دی پکار.

قنوت نازله په ټولو لمونځونو کی او ددُعا په ډول په لاسونو پورته کولو سره: **سوال:** (۱۲۷۸) یومولوی صاحب اهلِ حدیث دپنځوواړو فرض لمونځونو په آخری رکعت کی درکوع څخه وروسته په لاس پورته کولو سره دُعا وایی، اومقتدیان هم په لاسونو پورته کولو سره په طریقه ددُعا آمین وایی. آیا دا دُعا په دی طریق سره ویل جائز دی اوکه نه؟

جواب: داسی هم ثابت دی لهٰذا په دی کی هیڅ حرج نسته اوحنفیه ؤ هم ددی اجازت ورکړی دی (۳) اګر چه زیاتره روایات دسهار په لمونځ کی دی. (۴)

فصلِ ثالث سننِ مؤکّده وغیر مؤکده

دسُنن مؤکده او غیرِ مؤګده مسائل

دسهار دجمع په وخت کی به سُنت په کم ځای کی کوی؟ **سوال:** (۱۲۷۹) دسهار سُنت دامام څخه دومره لیری کول ښایی چي دامام آواز نه ورځی، حالانکه جوماتونه په کثرت سره کوچني دی، سُنت لمونځ کونکی ترکمه ځایه دَنه اوریدلو احتیاط وکړی دهغه دپاره څه حکم دی؟

جواب: دآواز راتللو یا نه راتللو قید نسته، صرف ځای یې جلا کیدل پکاردی. (۱) فقط

---

(۱) سورة البقرة رکوع ۱۱. ظفیر
(۲) سورة البقرة رکوع ۱۱. ظفیر
(۳) ولا یقنت لغیره الا لنازلة فیقنت الامام فی الجهریة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر ج۱ ص۶۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱). ظفیر
(۴) وهو صریح فی ان القنوت النازلة عندنا مختص بصلاة الفجر دون غیرها من الصلوات الجهریة اوالسریة (رد المحتار باب الوتر ج۱ ص۶۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱). ظفیر

دسهار دلمونځ په صفونوکی دسُنتو اجازت نسته: **سوال**: (۱۲۸۰) دسهار دجَمع ددریدلو څخه وروسته دسهار سُنت په مخکی یا دویم صف کی دکولو څه حکم دی؟ که جائز نه وی نو علت دعدمِ جواز تحریر وفرمایاست؟

جواب: علت دعدمِ جواز صورةً مخالفت دجَماعت او دحدیث: اِذَا اُقِیْمَتِ الصلوٰةُ فَلاَ صلوٰةَ اِلاَّ المکتوبه دی [۲] اوپه درمختار کی دی: بَلْ یُصَلّیها عندَ بابَ المسَجد ان وجد مکانًا والا ترکها لان ترك المکروه مقدمِ علی فعل السنة [۳] الخ. اوپه شامی کی دی: فان کان عند باب المسجد مکان صلاًّها فیه والا صلاها فی الشتوی اوالصیفی انکان لمسجد موضعان. [۴] فقط

دسنتو او فرضو په مینځ کی دُنیاوی خبری اودهغو حکم: **سوال**: (۱۲۸۱) زید دسهار او ماپښین دسُنتو اوفرضو په مینځ کی دُنیوی خبری کوی نودسُنتو اعاده به کوی اوکه نه؟

جواب: په دی کی ثواب کمیږی دسُنتو داعادې ضرورت نسته. وفیه اختلاف. [۵]

دجومات په دننه حصه کی دجماعت په حالت کی دباندې دسُنتو دګنجائش دلیل: **سوال**: (۱۲۸۲) چه دجومات په دننه حصه کی دسهار جَمع ولاړه وی، نوپه دباندې حصه کی به سُنت په کم دلیل سره درست وی کله چه دقراءة آواز اوریدل کیږی نو پر: فَاسْتَمِعُواْ باندی به څرنګه عمل کیږی؟

جواب: دآثارِ صحابه ﷺ څخه داسی ثابت دی چه دسهار دفرضو آواز به راتللی اوهغوی به یوطرف ته سول اودسهار سُنت به یې کول. په دی وجه امام صاحب داسی حکم ورکړی چه یوې خواته دی دسهار سُنت وکړی بیادی په جماعت کی شریك سی، چه دواړه فضیلتونه ورته حاصل سی. [۶]

---

[۱] واذا خاف فوت رکعتی الفجر لاشتغاله بسنتها ترکها لکون الجماعة اکمل والاّ بان رجا ادراك رکعة الخ لا یترکها بل یصلیها عند باب المسجد ان وجد مکانا والاّ ترکها لان ترك المکروه مقدم علی فعل السنة (در مختار) عندباب المسجد ای خارج المسجد کما صرح القهستانی وقال فی العنایة لانه لو صلاها فی المسجد کان متنفلا فیه عند اشتغال الامام بالفریضة وهو مکروه فان لم یکن علی باب المسجد موضع للصلاة یصلیها فی المسجد خلف ساریة من سواری المسجد واشدها کراهة ان یصلیها مخالطا للصف مخالفا للجماعة والذی یلی ذالك خلف الصف من غیر حائل اهـ (ردالمحتار باب ادراك الفریضة ج۱ ص۲۷۰ – ۲۷۱ ، ط. س. ج۲ ص۵۷). ظ

[۲] مشکوٰة المصابیح باب الجماعة وفضلها فصل اول ص ۲۲ عن ابی هریرة ﷺ . ظفیر

[۳] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، باب ادراك الفریضه ج۱ ص۲۷۱ ، ط. س. ج۲ ص۵۷. ظفیر

[۴] ردالمحتار باب ادراك الفریضة ج۱ ص۲۷۱، ط. س. ج۲ ص۵۷، ظفیر

[۵] ولوتکلم بین السنة والفرض لا یسقطها ولکن ینقص ثوابها وقیل یسقط (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۳۲ ، ط. س. ج۲ ص۱۹). ظفیر

[۶] وانما خالفناه فی سنة الفجر لشدة تاکدها علی مامر علی انها لاتقتضی والحدیث المذکور قد اوفقه ابن =

که چیری چا دڅلور رکعتو نیت مات کړی نو بیابه پرهغه باندی څو رکعته واجب وی؟ سوال: (۱۲۸۳) دسُنت مؤکده لکه دماپښین څلور رکعتونیت یې مات کړی نوپرهغه باندي دوه ۲ رکعته واجب دی اوکه څلور؟

جواب: څلور. (۱) فقط

دماپښین سُنت کم چه دفرضو په وجه پر دؤو رکعتو باندی ختم کړل سول دفرضو څخه وروسته به څلور رکعته کوی: سوال: (۱۲۸۴) زید دماپښین سُنت کول لا یورکعت یې کړی ؤ چه جَمع ودریده، هغه دوه رکعته پوره کړل اوسلام یې وګرځوی. نودی به دفرضو څخه وروسته دوه ۲ رکعته کوی اوکه څلور؟

جواب: ده لره دفرضو څخه وروسته څلور رکعته دماپښین سُنت کول پکار دی. (۲) فقط

دماپښین دجَمعی په وخت کی راتلونکی به مخکنی سنت کله کوی؟ سوال: (۱۲۸۵) که چیري یو سړی دماپښین لمانځه ته په داسی وخت کی راغی چه جَمع ولاړه وه، ده سُنت ونه کړل، اوپه جَمع کی شریك سو نوڅلور رکعته به کم وخت کوی اوڅه نیت به کوی دقضاء اوکه داداء؟

جواب: دفرضو څخه وروسته دی څلور سُنت وکړی ددؤو سُنتو څخه مخکی یا وروسته او نیت دی دماپښین دسُنتو وکړی. (۳) فقط

که دَسهارسُنت پاته سی نوکله به یې کوی؟ سوال: (۱۲۸۶) که دسهاردلمونځ سُنت په فرضو

= عینیه وحماد بن زید وحماد بن سلمه عن ابی هریرة ﷺ ولماروی الطحاوی وغیره عن ابن مسعود ﷺ انه دخل المسجد وقد اقیمت الصلوة فصلی رکعتی الفجر فی المسجد الی اسطوانة وذالك بمحضر حذیفة وابی موسٰی وقد مر تمامه فی اوقات المکروهُة فکانت سنة الفجر مستثناة بادلة اخری عرضت حدیث ابی هریرة ﷺ ورجحت علیه (غنیة المستملی ص ۳۷۹ - ۳۸۰). ظفیر

(۱) وسن مؤکدا اربع قبل الظهر واربع قبل الجمعة واربع بعدها بتسلیمة فلو بتسلیمتین لم تنب عن السنة ولذا لو نذرها لا یخرج عنه بتسلیمتین (الدرالمختار باب الوتر والنوافل ص۲۳۰، ط. س. ج۲ ص۱۳) ولایصلی علی النبی ﷺ فی القعدة الاولی فی الاربع قبل الظهر والجمعة الخ (درمختار) فی البحر فی باب صفة الصلاة ان ما ذکر مسلم فیما قبل الظهر لما صرحوا به من انه لا تبطل شفعة الشفیع بالانتقال الی الشفع الثانی منها ولو افسدها قضی اربعا (ردالمحتار باب ایضًا ج۱ ص۲۳۳ ، ط. س. ج۲ ص۱۲). ظفیر

(۲) بخلاف سنة الظهر وکذا الجمعة فانه ان خاف فوت رکعة یترکها ویقتدی ثم یاتی بها علی انها سنة فی وقته ای الظهر قبل شفعه عند محمد وبه یفتی (درمختار) اقول وعلیه المتون لکن رجح فی الفتح تقدیم الرکعتین قال فی الامداد وفی فتاوی العتابی انه المختار وفی مبسوط شیخ الاسلام انه الاصح لحدیث عائشه ﷺ انه علیه الصلوة والسلام کان اذا فاتته الاربع قبل الظهر یصلین بعد الرکعتین وهو قول ابی حنیفة وکذا فی جامع قاضی خان اهـ والحدیث قال الترمذی حسن غریب اهـ فتح (ردالمحتار باب ادرك الفریضة ج۱ ص۲۷۳ ، ط. س. ج۲ ص۵۸). محمد ظفیر الدین غفر الله تعالی له

(۳) ایضا . ظفیر

کی دشامليدلو په وجهی سره پاته سی نو هغه به کم وخت اداء کوي؟
جواب: په درمختار کی دی: ولا يقضيها الاّ بطريق التبعية [۱] الخ يعنی دسهار دسنتو قضا نسته. ليکن کله چه دفرضوسره وی نوپه دې صورت کی دزوال څخه مخکی مخکی دی قضا وکړی، اوکه چيری يوازی سنت فوت سی نو دهغه قضا نسته، امام ابو حنيفه رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله خوپه هيڅ وخت کی هم دقضا قائل نه دی، نه دلمر ختلو څخه مخکی او نه دلمر ختلو څخه وروسته، او امام محمد رحمه الله فرمايي چی دلمر ختلو څخه وروسته دزوال څخه مخکی مخکی کول يې بهتر دی. [۲] فقط

که دجُمعې مخکني سنت پاته سي؟ سوال: (۱۲۸۷) کم سُنت چی دجمعې دلمانځه څخه مخکی کول کيږی که هغه پاته سی نو وروسته به يې کوی اوکه نه ؟
جواب: کم سُنت چی دجُمعې (دلمانځه څخه) مخکی کول کيږی که چيری هغه يې ونکړای سوای نو دجُمعې دلمانځه څخه وروسته دی وکړی، کما قال فی الدر المختار: بخلاف سنة الظهر وكذا الجمعة الخ ثم ياتی بها علی انّه سنة فی وقته الخ. [۳] والله اعلم.

دسهار سُنت ترکله پوري کولی سي: **سوال**: (۱۲۸۸) دسهار سُنت ترکم وخته پوری کول پکاردی، دهغه دقضا څه حکم دی؟
جواب: که چيری دسهار جَمعه ولاړه وی، نو که چيری ديوه رکعت دنيولو اُميد يې وی نو دسهار سُنت دی يوې خواته په کيدلوسره وکړی بيادی په جَمع کی شريك سی، [۴] اوکه چيری مخکی يې ونکړل نو بيا دفرضو څخه وروسته دلمر ختلو څخه مخکی دی نه کوی، که يې چيری کوی نو دلمر راختلو څخه وروسته دی وکړی. [۵] فقط

دماپښين، ماښام او ماخستن څخه وروسته نوافل: **سوال**: (۱۲۸۹) دماپښين او ماښام او ماخستن دلمونځ څخه وروسته نفل کول دسُنت څخه ثابت دی اوکه نه؟

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب السنن والنوافل ج۱ ص۶۷۲ ، ط. س. ج۲ ص۵۷. ظفير

(۲) واذا فاتته ركعتا الفجر لا يقضيها قبل طلوع الشمس لانه يبقی نفلا مطلقا وهو مكروه بعد الصبح ولو بعد ارتفاعها عند ابی حنيفة وابی يوسف وقال محمد احبّ الیّ ان يقضيها الی وقت الزوال (هداية باب ادراك الفريضة ج۱ ص۱۳۲). ظفير

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ادراك الفريضة ج۱ ص۶۷۲ ، ط. س. ج۲ ص۵۸. ظفير

(۴) واذاخاف فوت ركعتی الفجر لاشتغاله بسنتها تركها لكون الجماعة اكمل والاّ بان رجا ادراك ركعة لا يدركها بل يصليها عند باب المسجد ان وجد مكانا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ادراك الفريضة ج۱ ص ۶۷۰ – ۶۷۱ ، ط. س. ج۲ ص۵۶). ظفير

(۵) ولا يقضيها الا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لابعده فی الاصح (درمختار) واما اذا فاتت وحدها فلا تقضی قبل طلوع الشمس بالاجماع لكراهة النفل بعد الصبح واما بعد طلوع الشمس فكذالك عندهما وقال محمد احب الیّ ان يقضيها الی الزوال (ردالمحتار باب ادراك الفريضة ج۱ ص۶۷۲ ، ط. س. ج۲ ص۵۷). ظفير

جواب: دسُنت څخه ثابت دی. (١) فقط

دسهار سُنت دفرضو څخه وروسته دلمر راختلو څخه مخکې کول جائز دي اوکه نه؟ سوال: (١٧٩٠) دسهار سُنت دلمر راختلو څخه مخکې دجَمعې څخه وروسته کول څنګه دی. که ناجائز وی، نو دماپښين مخکې سُنت هم کول نه دی پکار.

جواب: دسهار دفرضو څخه وروسته دلمر ختلو څخه مخکې سُنت کول جائز نه دی ولې چه ددی منع والی په حديث شريف کی راغلی دی. په بُخاری اومُسلم کی دحضرت ابو سعيد خُدری ﷺ په روايت کی راغلی دی: قال رسول الله ﷺ لاصلٰوة بعد الصبح حتی ترتفع الشمس ولا صلوة بعد العصر حتی تغيب الشمس(٢) ددی حديث څخه دبعدالصبح اوبعد العصر نوافلو اوسننو ممانعت معلوم سو، او دماپښين څخه وروسته ممانعت نه دی راغلی. لهٰذا که چيری دماپښين څخه مخکې سُنت پاته سی نودفرضو څخه وروسته دی هغه وکړی. اوحنفيه فقهاء ليکی: ولا يقضيها الا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لابعده بخلاف سنة الظهر. په درمختار اوشامی کی دی: واما اذا فاتت وحدها فلا تقضی قبل طلوع الشمس بالاجماع لكراهة النفل بعد الصبح، واما بعد طلوع الشمس فكذالك عندهما وقال محمد احب الی ان يقضيها الی الزوال (٣) الخ. فقط

ديوه رکعت نيولو په اُميد باندې دسهار دجَمعې په وخت کی دسهار سُنت درست دي او که نه؟ سوال: (١٧٩١) په شرح وقايه کی ليکلی دی چه که چيری دسهار دفرضو ديوه رکعت دامام سره دنيولو اُميدوی نو سُنت دی نه ترك کوی. داصحيح ده اوکه نه؟ بعضی وايی چه کله امام قرآئت شروع کړی نودسهار سُنت کول حرام دی. ترکم ځای پوری چه دامام آواز رَسيږی، داصحيح ده اوکه نه؟

جواب: داصحيح ده چه که چيری دسهار دفرضو يورکعت بلکه عند المحققين تشهد هم نيولی سی نوپه يو جلا ځای کی دی سُنت ادا کړی بيادی په جماعت کی شامل سی. كذا فی الدر المختار والشامی (٤)، اوکم خلق چه داسی وايی چه دسهار دفرضو دجماعت

---

(١) عن ام حبيبة قالت قال رسول الله ﷺ من صلی فی يوم وليلة ثنتی عشرة ركعة بنی له بيتا فی الجنة اربعًا قبل الظهر وركعتين بعد المغرب وركعتين بعد العشاء وركعتين قبل صلوة الفجر رواه الترمذی (مشكوٰة باب السنن وفضائلها ج١ ص١٠٣) ويستحب اربع قبل العصر وقبل العشاء وبعدها بتسليمة وان شاء ركعتين وكذا بعد الظهر لحديث الترمذی من حفظ اربع ركعات قبل الظهر واربع بعدها حرمه الله علی النار وست بعد المغرب ليكتب من الاوّابين بتسليمة اوثنتين (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی السنن ج١ ص٢٣٠ ، ط. س. ج٢ ص١٣). ظفير

(٢) مشكوٰة المصابيح باب اوقات النهی ص ٩٤ . ظفير

(٣) ردالمحتار باب ادراك الفريضةج١ ص٢٧٢ ظفير =

دشروع کیدلو څخه وروسته مطلقًا دسهار سُنت کول حرام دی، هغوی حنفیان نه دی او هغوی ته دحنفی مذهب خبر نسته. دحنفیه ؤ همدا مذهب دی چه سُنت دی وکړی اوپه جَمع کی دی شریك سی. لیکن حتی الوسع دجَمع څخه دی په جلا ځای کی بیل وکړی. والتفصیل فی کتب الفقه.

دسُنتو په نیت کی سُنت رسول الله ویل څنګه دی؟ سوال: (١٢٩٢) دسُنتو په نیت کی سُنت رسول الله ویل څنګه دی؟

جواب: وکفٰی مطلق نیة الصلاة وان لم یقل لله لنفل وسنة راتبة الخ درمختار. یعنی په سُنتو او نفلوکي مطلقِ نیت دلمانځه هم کافی دی. اوتعین کول چه دسهار سُنت دی یا دماپښین دی اَحْوطَ دی. که چیری سُنتِ رسول الله ووایي نوبیا هم څه حرج نسته پکښی. (١) والله تعالیٰ اعلم

دسُنت مؤکده پرېښول درست نه دي: سوال: (١٢٩٣) دسُنت مؤکده ؤ په باره کی بعضی عالمان وایی چه که چیری فرصت ورته وی نو ودی کړی اوکه فرصت نه وی نه دی کوی څه حرج پکښی نسته. داصحیح ده اوکه نه؟

جواب: سُنت مؤکده پرېښول نه دی پکار. حتی الوسع کول یی پکاردی (٢) البته که چیری وخت تنګ سوی وی چه صرف دفرضو کولو په مقدار وخت باقی وی نو هغه وخت دی سُنت پرېږدی. فقط

سُنت په کورکی کول: سوال: (١٢٩٤) سُنت په کور کی کول فضیلت لری. دا دمخکنیو او وروستنیو دواړو سُنتو دپاره دی اوکه څنګه؟

دماښام څخه وروسته سُنتونه: سوال: (١٢٩٥) دماښام څخه وروسته چه دشپږو ٢ رکعتو کم تر غیب ورکړل سوی دی که دهغه دوه ٢ رکعته ادا کړی نو کیدی سی اوکه نه؟

دفرائضو څخه وروسته سُنت فوراً کول پکاردي اوکه تاخیر هم کولی سی؟ سوال: (١٢٩٦) دفرضو څخه وروسته چه کم نفل دی هغه به دفرضو څخه وروسته سمدستی کوی او که

---

(٣) واذا خاف فوت رکعتی الفجر لاشتغاله بسنتها ترکها لکون الجماعة اکمل والاًّ بان رجا ادراك رکعة فی ظاهر الروایة وقیل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالی تبعا للبحر لکن ضعفه فی النهر، لایترکها بل یصلیها عند باب المسجد ان وجد مکانا والاًّ ترکها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ادراك الفریضة ج١ ص٢٧٠ وص٢٧٢ ، ط. س. ج٢ ص٥٦) صرف دتشهد په اُمید دی رکعت نه پرېږدی. ظفیر

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج١ ص٣٨٨ ، ط. س. ج٢ ص٥١٧. ظفیر

(٢) ولهٰذا کانت السنة المؤکدة قریبة من الواجب فی لحوق الاسم کما فی البحر ویستوجب تارکها التضلیل واللوم کمافی التحریر ای علی سبیل الاصرار بلاعذر (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی السنن والنوافل ج١ ص٦٣٠ ، ط. س. ج٢ ص١٢). ظفیر

تر کمه پوری چه وخت باقی وی کولی یې سی؟

جواب: (١) داحکم ددوارو سُنتو دپاره دی لیکن که چیری دفرضو څخه وروسته کورته په تللوکی په لاره کی یا کورته دتللو څخه وروسته دځه حرج واقع کیدلو احتمال وی اوپه دُنیاوی کارونوکی دمشغولیدلو اندیښنه وی نو بیادی سُنت په جومات کی وکړی ولی چه داسی هم ثابت دی. ([١])

(٢) دا شپږ ٢ رکعته دکومو فضیلت چه دماښام په وخت کې راغلی دی ددؤو مؤکدو سنتو څخه علاوه دی. اوبعضو فرمایلی دی چه دوه ٢ مؤکد سُنت هم په دی کی داخل دی. اوکه دماښام ددؤو سنتو څخه وروسته صرف دوه ٢ رکعته نفل وکړی نو په دی کی هم ثواب ([٢]) دی.

(٣) ترڅو پوری چې ددغه لمونځ وخت سته نو ددغه نوافلو وخت هم سته. ([٣]) فقط (خو متصلاً یې کول اولی دی. ظفیر)

دماپښین دڅلورو رکعتو سنتو حیثیت دفرض دادا کولو څخه وروسته: **سوال**: (١٢٩٧) دماپښین فرض یې مخکی وکړل نواوس مخکنی څلور رکعته سُنت نفل سوه اوکه سُنت مؤکده پاتی دی؟

جواب: ترڅو پوری چه وخت باقی وی دماپښین څخه مخکی څلور رکعته ادا کول سُنت مؤکده دی. که چیری دفرضوڅخه مخکی څلور رکعته سنت یې ادانه کړل نو دفرضو څخه وروسته یې اداء کول پکار دی. ([٤]) فقط

([١]) الافضل فی النفل غیر التراویح المنزل الا لخوف شغل منها والاصح افضلیة ماکان اخشع واخلص (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ، ط. س. ج٢ ص٢٢). ظفیر

([٢]) ویستحب الخ وست بعد المغرب لیکتب من الاوّابین بتسلیمة اوثلاث والاول ادوم واشق وهل تحسب المؤکدة من المستحب ویؤدي الکل بتسلیمة واحدة اختار الکمال نعم (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٣١ ، ط. س. ج٢ ص١٣). ظفیر

([٣]) لیکن ښه داده چه متصلاً یې وکړی ، ولی چه فقهاء لیکی: ویکره تاخیر السنة الا بقدر اللهم انت السلام الخ قال الحلبی لاباس بالفصل بالاوراد واختاره الکمال قال الحلبی ان ارید بالکراهة التنزیهیة ارتفع الخلاف وفی حفظي حمله علی القلیلة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار.باب صفة الصلوة ج١ ص٤٩٤ ، ط. س. ج٢ ص٥٣٠). ظفیر

([٤]) بخلاف سنة الظهر وکذا الجمعة ان خاف فوت رکعة یترکها ویقتدی ثم یاتی بها علی انها سنة فی وقته ای الظهر (درمختار) علی انها سنة ای اتفاقا وما فی الخانیة وغیرها من انها نفل عنده سنة عندهما فهو من تصرف المصنفین لان المذکور فی المسئلة الاختلاف فی تقدیمها اوتاخرها والاتفاق علی قضائها وهو اتفاق علی وقوعها سنة کما حققه فی الفتح وتبعه فی البحر والنهر وشرح المنیة (ردالمحتار، باب ادراك الفریضة ج١ ص ٢٧٢ – ٢٧٣ ، ط. س. ج٢ ص٥٨). ظفیر

که چیری په هیره دسُنتو په نیت کی دفرضو نومونه واخلی نوڅه حکم دی؟ سوال: (١٢٩٨) که چیری یوسړی دماپښین یا سهار په وخت کی په هیره دسنت مؤکده په سنت سره دفرضونیت وکړی نوسنت څرنګه اداکړی. آیانیت مات کړی اوبیا دسنتو نیت وتړي اوکه څه وکړی؟

جواب: نیت دی مات کړی اوبیادی دسنتو نیت وتړی اودوباره دی تکبیر دسنتو په نیت سره ووایی. (١)

سنت په کورکی کول غوره دی: سوال: (١٢٩٩) زۀ دسهار سُنت په کورکی کوم او ددُر مختار وغیرهما دروایت مطابق دا غوره ګڼم. دمولانا اشرف علی صاحب دجواب څخه معلومیږی چه ټول سنن مؤکده په جُومات کی کول افضل دی، دپاره ددی چه تشبّه داهلِ بدعت سره رانسی. چونکه په دی علاقو کی تارکین دسنتو نسته نوآیا دلته به هم تشبُّه داهل بدعت سره وی اوکه نه؟

جواب: په احادیثو کی دسُنتو اونوافلو په کورکي دادا کولو چه کم فضیلت وارد سوی دی، هغه مشهور اومعروف دی. اوفقهاؤ هم دتراویحو څخه ماسوا نور سُنن اونوافل په کور کی کولو ته غوره فرمایلی دی (٢) او دحنیفه ؤ داکابرو حضراتو لکه حضرت محدّث اوفقیه ګنګوهی ؒ عمل په همدی باندی لیدل سوی دی. او ستاسی په اطرافو کی چه کله فرقه داهلِ بدعتو یا داسي بله فرقه کمه چه دسُنتو تارکه وی سته هم نه، نوپه په دی فضیلت کښی هیڅ اشکال باقی نه پاته کیږی. فقط

دفرضو څخه وروسته اودسُنت مؤکده څخه مخکی تسبیحات: سوال: (١٧٠٠) یوسړی دفرض لمونځ څخه وروسته اودسُنتو څخه مخکی تسبیحات اوآیت الکرسی وایی اوسُنت مؤکده ترهغه وروسته اداء کوی. اوما اوریدلی دی چه حضور ﷺ به دفرض لمونځونو څخه وروسته دعاء او سلام لوستل اوسُنتِ مؤکده به یې ژر ادا کول ځکه چي ملائکي فرض او سُنَّت دواړه درګاهِ الٰهی ته وړی اوپیش کوی یی؟

جواب: آیت الکرسی اوتسبیحات دسنتوڅخه مخکی ویل هم جائزدی، او داکابرو معمول به دی. او داحادیثو څخه دواړي خبری ثابتی (٣) دی. فقط

---

(١) رجل افتتح المکتوبة فظن انها تطوع فصلی علی نیة التطوع حتی فرغ فالصلوة هی المکتوبة ولوکان الامر بالعکس فالجواب بالعکس الخ والنیة بدون التکبیر لیس بمخرج (عالمګیری کشوری الفصل الرابع فی النیة ج١ ص ٢۴ – ٢۵ ، ط. ماجدیه ج١ ص٦٢). ظفیر

(٢) والفضل فی النفل غیر التراویح المنزل الاّ لخوف شغل منها والاصح افضلیة ماکان اخشع واخلص (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٣٨ ، ط. س. ج٢ ص٢٢). ظفیر =

دماپښین دفرضو څخه وروسته دڅلورو رکعتو معمول څنګه دی؟ سوال: (۱۷۰۱) یوسړی دماپښین څخه مخکی څلور رکعته دماپښین سُنت کوی ترهغه وروسته دماپښین فرض ادا کوی په جَمع سره دماپښین دفرضو ادا کولو څخه وروسته دوه ۲ رکعته سُنت نه کوی بلکه ددؤو پرځای څلور رکعته سُنت پریوه ځای کوی اوهمیشه همداسی کوی. په دی کی څه حرج سته اوکه نه؟

جواب: قال ابن الهمام وصرح جماعة من المشائخ انه يستحب اربع بعد الظهر لحديث رووه وهو انه ﷺ قال من صلى اربعًا قبل الظهر واربعًا بعده حرمه الله على النار. رواه ابوداؤد والترمذی والنسايی، ثم اختلف اهل هذا العصر فی انها يعتبر غير ركعتی الراتبة اوبها وعلى التقدير الثانی قيل تؤدى بها بتسليمة واحدة اولا فقال جماعة لا لانه ان نوى عند التحريمة السنة لم يصدق فی الشفع الثانی او المستحب لم يصدق فی السنة ووقع عندی انه اذا صلى اربعًا بعد الظهر بتسليمة اوثنتين لم يصدق فی السنة ووقع عندی انه اذا صلى اربعًا بعد الظهر بتسليمة اوثنتين وقع عن السنة والمندوب سواء احسبه الراتبة او لا. فتح القدير ص۳۸٦ مصری.

نومعلومه سوه چه که چیری یوسړی په استحباب باندی عمل کوی او دماپښین دفرضو څخه وروسته صرف څلور رکعته کوی، دوه رکعته سنت یوازي نه کوی. نو دشیخ ابن همام دتحقیق پربنا باندی هیڅ حرج پکښی نسته. په دی څلورو رکعتونو کی به دوه ۲ رکعته سُنت (خود بخوده) حساب سی برابره خبره که دهغی نیت وکړی اوکه یې ونه کړی. البته مختاره داده چه څلور رکعته دی دماپښین دفرضوڅخه وروسته په دؤو سلامو سره کوی دپاره ددی چه دچا اختلاف ګرسره پاته نسی اوپه دی حدیث باندی هم عمل وسی په کم کی چه راغلی دی: عن عائشة رضي الله عنها كان النبی ﷺ يصلي قبل الظهر اربعًا وبعدها ركعتين [1] الحديث رواه مسلم وابوداؤد.

ددی روایت څخه داسی معلومیږی چه دنبی کریم ﷺ عادتِ مُستمِرّه داؤو چه دوه۲ رکعته سُنت به یې دماپښین دفرضو څخه وروسته کول. ددی وجه څخه کمالِ اتباعِ دسرورِ کائنات ﷺ په دی کی ده چه دماپښین دفرضو څخه وروسته دی ددوو دوو ۲ رکعتو

([1]) وعن المغيرة بن شعبة ان النبی ﷺ كان يقول فی دبر كل صلوٰة مكتوبة لا اله الا الله وحده لا شريك له الخ متفق عليه (مشكوٰة باب الذكر بعد الصلوٰة ص۸۸) وعن علی قال سمعت رسول الله ﷺ على اعواد هٰذا المنبر يقول من قرء اٰية الكرسی فی دبر كل صلوٰة لم يمنعه من دخول الجنه الا الموت الخ قال اسناده ضعيف (ايضًا ص۸۹) قال الحلوانی لاباس بالفصل بالاوراد واختاره الكمال (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوٰة ج۱ ص۴۹۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۳۰). ظفير

([1]) وګوری مشكوٰة باب السنن ص۱۰۴ . ظفير

سُنتو بیل کولو اهتمام وکړی، پرڅلورو رکعتو باندی همیشه والی کول اودوه رکعته سُنت بیل نه کول دحضرت عائشي رضی الله عنها په حدیث باندی دعمل کولومانع دی، آئنده ددی خیال ساتل پکاردی. فقط

دفرضو څخه وروسته په سنتو کی تاخیر ترڅومره حده پوری درست دی: سوال: (۱۷۰۲) دفرضو څخه وروسته دسُنتو تاخیر ترکم مقدار پوری مستحب دی، او دکم مقدار څخه زیات مکروهه دی. دحنفیه ؤ مفتٰی بهِ قول سره ددلائلو بیان وفرمایاست ! (۱)

جواب: په درمختار کی دی: ویکره تاخیر السنة الاّ بقدر اللّهم انت السّلام الخ لیکن مطلب ددی دادی، چه دا تقریبی خبره ده، که چیری ددی څخه څه زیاته هم دُعا وغیره وسی نوڅه حرج نسته. اوصحیح داده چه په فصل بِالاَوْرَادکی څه بدوالی نسته، واختاره الکمال. (۲) فقط

دفرضوڅخه وروسته سُنت په کورکی وکړی، اوکه په جُومات کی؟ سوال: (۱۷۰۳) دفرضو څخه وروسته سُنتونه خپلو خپلو کورونو ته دتللو څخه وروسته کول پکاردی اوکه په جومات کی؟

جواب: فی الشامی: لاتفاق کلمة المشایخ علی ان الافضل فی السنن حتی سنة المغرب المنزل ای فلا یکره الفصل بمسافة الطریق، (۳) شامی اوپه بل ځای کی مذکور دی: والافضل فی النفل غیر التراویح المنزل الا لخوف شغل عنها والاصح افضلیة ماکان اخشع واخلص (۴).

ددی آخری عبارت څخه واضح سوه چه کم اَخْشعْ اواَخلَص وی هم هغه بهتردی. که چیری په جومات کی په کولوکی خشوع زیاته وی اواخلاص زیات وی اوکورته دتللو څخه وروسته په کولو کی دتاخیر وغیره خوف وی نو بیاپه جومات کی کول غوره دی. فقط

دسنتو اونوافلو څخه وروسته دُعا انفرادًا ده او اجتماعًا ثابته نه ده: سوال: (۱۷۰۴) دسُنتو او نفلو څخه وروسته هم دُعا کول پکاردی اوکه نه؟ اوکه دسلام ګرځولو سره سَم ولاړیدل اوتلل پکاردی؟ که چیری یوڅوك عالم سړی دسُنتو اونفلو څخه وروسته دُعانه کوی، او همداسی ولاړ سی نو دملامتیا قابل دی اوکه نه؟ څوك چه پخپله هم دُعانه کوی اونورو

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۹۴ ، ط. س. ج۱ ص۵۳۰. ظفیر
(۲) ایضًا ، ط. س. ج۱ ص۵۳۰. ظفیر
(۳) ردالمحتار باب صفة الصلاة تحت قول ویکره تاخیر السّنة الا بقدر اللّهم انت السلام الخ ج۱ ص۴۹۵ ، ط. س. ج۲ ص۵۳۰. ظفیر
(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۳۸ ، ط. س. ج۲ ص۲۲. ظفیر

دُعاكونكوته هم بدرد وايي اوددعا څخه يې منع كوى نوهغه دملامتيا قابل دى اوكه نه؟

جواب: دفرائضو څخه وروسته ددعا كولو څخه وروسته خپريدل پكاردى. دسُننو او نوافلوڅخه وروسته مقتديانو ته داجتماعى دُعا پابندى كول نه دى پكار. دفرائضو څخه وروسته كه يوسړى مثلاً كورته ځى اوهلته سُنت كول غواړى نوهغه دى ولى پابندى كړى سى. غرض داچه ځوك داسى كوى هغه دملامتيا لائق نه دى. اودا طريقه چه دنفلو او سنتو څخه وروسته پخپله هريو سړى چه كم وخت فارغ سى دُعادى وكړى، او ولاړ دى سى، يا دفرائضو څخه را وروسته دى كورته ولاړ سى اوهلته دى سُنت وكړى. په دى كى هيڅ تنگى كول نه دى پكار. فقط

<u>په دوؤو شفعو والا سُنتوكى قراءت</u>: **سوال**: (١٧٠٥) دسُننِ مؤكده ذى شُفْعَين په هره شُفعه كى قراءت واجب دى اوكه يوازي په مخكنى شُفع كى؟

جواب: په ځلورو واړو ركعتونو كى قراءت واجب دى. (١) فقط

<u>چه دمحراب څخه هاَ خواته سي سُنت كوى نوددى څه وجه ده؟</u> **سوال**: (١٧٠٦) امام چه دجماعت دمُصلى څخه هاخواته سى اوسُنت او نفل اداكوى نو ددى اصل علّت څه دى؟ كه چيرى پر دغه مُصَلى باندى سُنت اونفل ادا كړى نو څنگه دى؟

جواب: اوس اصل علّت داشتباه ارتفاع ده، اودا بهتره دى چه په صورت داشتباه كى په بيل ځاى كى سُنت اونفل وكړى (٢) ليكن كه يې چيرى پردغه مُصَلى باندى وكړى نوداهم درست دى. لان بالسّلام يحصل الفصل. اوكم اصلى علّت چه په حديث كى مذكور دى چه خلطِ فرائض بالنوافل دى اواحتمال اوگمان دزيادت دفرضو دى هغه اوس باقى نه دى.

<u>كه دجُمعى څخه مخكى سُنت يې ونه كړى سوه نو څه به كوى؟</u> **سوال**: (١٧٠٧) كه چيرى دجُمعى څخه مخكى ځلور ركعته سُنت پاته سى نودجُمعى دفرضو څخه وروسته به هغه كوي اوكه نه؟

جواب: دجُمعى دلمونځ دادا كولو څخه وروسته دجُمعى څخه مخكى (والا) سُنت ادا كول پكار دى. (٣)

---

(١) وتفرض القراءة عملا فى ركعتى الفرض الخ وكل النفل للمنفرد ولان كل شفع صلاة الخ وكل الوتر احتياطا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الوتر وللنوافل ج١ ص٢٤٤ ، ط. س. ج٢ ص٢٨). ظفير

(٢) ويكره للامام التنفل فى مكانه لا للمؤتم وقيل يستحب كسر الصفوف وفى الخانية يستحب للامام التحول ليمين القبلة يعنى يسار المصلى لتنفل او ورد وخيّره فى المنية بين تحويله يمينا وشمالا واماماً وخلفا وذهابه لبيته الخ (درمختار) قوله ويكره الخ بل يتحول الخ وكذا يكره مكثه قاعدا فى مكانه مستقبل القبلة فى صلاة لا تطوع بعدها والكراهة تنزيهية كمادلت عليه عبارة الخانية ﴿ وقال لان المقصود من الانحراف وهو زوال الاشتباه اى اشتباه انه فى الصلوة (ردالمحتارقبيل فصل فى القراءة ج١ ص ٤٩٥ وص٤٩٦ ، ط. س. ج١ ص٥٣١). ظفير

دسنتو اوفرضو په مينځ کی دُنياوی خبری دثواب دکموالی موجب دی: سوال: (١٧٠٨) هل الكلام الدنيوى بين السنة التى قبل الظهر والتى قبل الفجر وبين فرضيها مفسد للسنة ام موجب لانحطاط ثواب السنة وايضا الاكل والشرب؟

جواب: موجب لنقص الثواب لا مفسد لها. قال فى الدر المختار: ولو تكلم بين السنة والفرض لا يفسدها ولكن ينقص ثوابها. ([1]) فقط

دسهار سنت چه کم پاتـه سی هغه به کله کوی؟ سوال: (١٧٠٩) چاچه دسهار سُنت ونه کړل، اوپه فرضوکی شريك سو نو اوس به هغه سُنت کم وخت کوی؟

جواب: اوس به هغه سُنت دفرض لمونځ څخه وروسته نه راګرځوی. که چيری کوی يې نو دلمر راختلو څخه وروسته دی وکړی. دابه نفل سی. ([2]) فقط

دسهار اوماښام په سُنتوکی پرسورة کافرون او اخلاص باندی هميشه والی اوددی حکم: سوال: (١٧١٠) آيا جناب رسول الله ﷺ به هميشه دسهار اوماښام دسنتو په مخکنی رکعت کی قل يٰايّها الكافرون اوپه دويم رکعت کی قل هو الله ويل؟ که چيری څوك پردی باندی هميشه والی کوی نو لمونځ به يې مکروه سی اوکه نه؟

جواب: هميشه داسی نه دی سوی ولی چه په حديث شريف کی دا راغلی دی چه په سنتو کی کله حضور عليه السلام سورت کافرون اوقل هو الله احد ويلی دی.اوکله يې: قُولُوا آمَنَّا بِاللهِ، الآية او: قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا، ويلی دی. كما ورد فى الحِصن الحَصين. اوکه چيری يوسړی همدا دوه سورتونه دسهار په سُنتوکی په مستحب ګڼلو سره قرائت کوی نو کراهت پکښی نسته، ليکن بهتره داده چه کله کله دی يو بل سورت يا: قُولُوْا اٰمَنَّا، الآية ، يا بل ځای هم وايی. ([3]) فقط

([3]) ولا يقضيها الا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لا بعده بخلاف سنة الظهر وكذا الجمعة فانه ان خاف فوت ركعة يتركها ويقتدى ثم ياتى بها على انها سنة فى وقته قبل شفعه عند محمد وبه يفتى (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج١ ص٢٧٢ باب ادارك الفريضة ، ط. س. ج٢ ص٥٧). ظفير

([1]) الدرالمختار باب الوتر والنوافل ج١ ص ٢٩٥ ، ط. س. ج٢ ص١٩. ظفير

([2]) واذا خاف فوت ركعتى الفجر لاشتغاله بسنتها تركها والاّ لا، ولا يقضيها الاّ بطريق التبعية بقضاء فرضها قبل الزوال لا بعده (درمختار) اما اذا فاتت احدها فلا تقضى قبل طلوع الشمس بالاجماع لكراهة النفل بعد الصبح امابعد طلوع الشمس فكذلك عندهما وقال محمد احب اليّ ان يقضيها الى الزول الخ وقالا يقضى وان قضا فلا باس ؒ وقال الخلاف فى انه لوقضىٰ كان نفلا مبتدأ اوسنّة كذا فى العناية يعنى مثلا عندهما سنة عنده كما ذكره فى الكافى اسمٰعيل (ردالمحتار باب ادراك الفريضة ج١ ص٢٧٠ وص٢٧٢ ، ط. س. ج٢ ص٥٦). ظفير

([3]) وكره عندنا وعند مالك تعيين سورة اى غير الفاتحة لصلاة من الصلوات الخ وقيد الطحاوى والاسبيجابى =

که دسهار سُنت دفرضو څخه وروسته وکړی نوڅه حرج دی؟ سوال: (١٧١١) که چیرې دسهار سُنت یې دجَمع دپاته کیدلو په وجه سره ونه کړی سوه نودلمر راختلو څخه مخکې دجَمع څخه وروسته کول یې څنګه دی، بعضې خلق دلمر ختلو څخه وروسته کولو ته بهتر وایی؟

جواب: دفرضو کولو څخه وروسته دسهار سُنت دلمرختلو څخه مخکې کول مکروهه دی. که چیري یې قضا راګرځول غواړی نودلمر ختلو څخه وروسته یې کول پکاردی، کنې ضرورت خو ددی هم نسته ولی چه مُستقلاً دسُنتو قضا نسته. البته که چیرې فرض هم قضا سوی وی نو بیا دهغو سره دزوال څخــه مخکې مخکې دی دسُنتو قضاهم وکړی. شامی ددرمختار تردې: ولا یقضیها الا بطریق التبعیة، لاندی لیکلی دی: ای لا یقضی سنة الفجر الا اذا فاتت مع الفـــــجر فیقضیها تبعًا لقضائه لو قبل الزوال واما اذا فاتت احدهما فلا تقضی قبل طلوع الشمس بالاجماع لکراهة النفل بعد الصبح واما بعد طلوع الشمس فکذالك عندهما وقال محمد احب الی ان یقضیها الی الزوال کما فـــــی الدر المختار (١) الخ. فقط

نفل په ناستی کول ښه دی اوکه په ولاړی؟ سوال: (١٧١٢) دکمو پنجګانه لمونځونو څخه وروسته چه کم نفلونه کیږی آیا هغه بالالتزام په ناستی کول پکاردی اوکه په ولاړي یې کول بهتردی؟

آیا جومات ته درسیدلو څخه وروسته به مخکې کښینی بیا به سُنت کوي: سوال: (١٧١٣) دلته علی العموم دخلقو اعتقاد دی، چه کله دلمانځه دپاره جومات ته ولاړسی نوداودس کولو څخه وروسته دی لږساعت کښینی بیادی ولاړ سی اودلمونځ نیت دی وکړی. اودا طریقه دفرضو او واجبو په شان ګڼی، دا داحادیثو څخه ثابته ده اوکه نه؟

جواب: (١) که چیرې دڅه عُذر په وجه سره نفل په ناسته وکړل سی نو جائزدی اوپه ولاړی دنفل کونکی سره به په فضیلت کی هم برابروی، کما فی جامع الرموز نقلاً عن النهایة ان اجر صلوة القاعد بعذر یساوی صلوة القائم بالاجماع (٢) الخ، اګرچه دبعضو قول داهم

= الکراهة فیما اعتقد ان الصلوة لاتجوز بغیرها واما اذا لم یعتقد ذالك ولازمها بسهولتها علیه او تبرکا بقراءة النبی ﷺ ایاها کقراءة سبح اسم وقل یٰایها الکافرون والاخلاص فی الوتر وقراءة الکافرون والاخلاص فی سنة الفجر والغرب الخ فلایکره بل یکون حسنا فترکه مطلقا غیر مستحسن الخ (شرح نقایه فصل فی القراءة ج١ ص٨٣). ظفیر

(١) ردالمحتار باب ادراك الفریضة ج١ ص٦٧٢ ، ط. س. ج٢ ص٥٧. ظفیر

(٢) جامع الرموز .

دی، چه په ذکر سوی صورت کی دګناه په نیستي والي کي صاحب عُذر اوروغ برابر دی. لیکن اول قول زیات مشهور دی. اوکه چیری دعُذر څخه بغیر نفل په استثناء دشُفعی بعد الوتر څخه په ناستی ادا کړی نو په دی صورت کی به سره دجواز څخه په ثواب کی ضرورا تنصیف وی: قال فی الهدایة ویصلی النافلة قاعداً مع القدرة علی القیام لقوله ﷺ القاعد علی النصف من صلٰوة القائم (١)، داجواز به په داسی صورت کی وی چه په ناسته کولوکی څه داسی التزام نه وی په کم سره چه کتونکو ته په ناستي دلمونځ کولو دسُنیَت یاوجوب ګمان وسی لکه څنګه چه په بعضو ځایونوکی دماپښین او ماښام څخه وروسته په خلقوکی دوه ٢ رکعته په ناستی کول رائج سوی دی اودهغه ځای عوام دا ناسته شرعًا لازمه ګنی. په داسی ځایونوکی داناسته بیشکه مکروهه ده، کمافی الخیریة ج٢ ص ٣٢٣: کل مباح یؤدی الی زعم الجهال سنیة امر او وجوب فهو مکروه آهـ نقلاً عن القنیة. نودزید امرار (زور ورکول) به په دی قعده کی داخل وی اوددی عادت ختمولو کوشش ضروری دی. نفل بعد الوتر ددی څخه مستثنٰی دی، ولی چه هغه په حدیث سره په ناسته ثابت دی. فقط

(٢) سُنت همدا دی چه جومات ته دتللو څخه وروسته دي دکښینستلو څخه بغیر دتحیة المسجد دوه ٢ رکعته ادا کړی. اوکه چیری مخکی کښینستی نو دابه ترکِ اولٰی وی. دصَحیحَینو حدیث فقهاؤ پرترکِ اولٰی باندی حمل کړی دی لیکن دکښینستلو څخه وروسته ادا کول ضروری ګڼل په دؤو وجهو سره خلافِ مشروع دی. یودا چه دصحیحَینو دحدیث څخه خلاف دی: اذا دخل احدکم المسجد فلا یجلس حتّی یصلی رکعتین، دویم دقاعدی مذکوری ترمخه به هم داطرز اودا طریقه مکروهه وی. کما فی الخیریة ج٢ ص ٣٣٣: کل مباح یؤدی الی زعم الجهال سنیة امر او وجوب فهومکروه آهـ نقلاً عن القنیة.

<u>په ناسته په نفل کولو سره ثواب حاصلیږی اوکه نه؟</u> سوال: (١٧١٣) په ناسته په نفل کولو سره ثواب حاصلیږی اوکه نه؟ تر وترو وروسته دنفلو څه حکم دی؟

جواب: که چیری نفل په ناسته کوی نو داحادیثو په وینا نیم ثواب به ورکول کیږي. (٢)

<u>صلوة الاوابین</u> : سوال: (١٧١٤) صلوة الاوّابین شل رکعته کول پکار دی ، او که شپږ ٢

---

(١) هدایه باب النوافل ج١ ص١٣٣ . ظفیر

(٢) ویتنفل مع قدرته علی القیام قاعداً ابتداء وبناء (الی قوله) وفیه اجر غیر النبی ﷺ النصف الا بعذر (در مختار) ففی صحیح مسلم عن عبدالله بن عمرو قلت حدثت رسول الله انك قلت صلاة الرجل قاعداً علی نصف الصلوة وانت تصلی قاعدا قال اجل ولکنی لست کاحد منکم (الی قوله) حدیث البخاری من صلی قائما فهو افضل ومن صلی قاعدا فله نصف اجر القائم الخ (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٥٢). ظفیر

رکعته، صحیح خبره څه ده؟

جواب: په صلٰوةِ اوّابین کی دواړي خبری صحیح دی شپږ رکعته هم راغلی دی اوشل هم چه هریو وکړی بهتردی. خو داکثرو عالمانو مذهب پرشپږو ۲ رکعتو باندی دی. (۱) فقط

دوترو څخه وروسته نفل په ناسته وکړی اوکه په ولاړه؟ **سوال**: (۱۷۱۵) دوترو څخه وروسته نفل په ناسته کول غوره دی اوکه په ولاړه؟ او دنوافلوپه ناسته کولوکی آیاثواب هغومره ورکول کیږي څومره چه په ولاړه کولو کی وی؟

جواب: په ناسته دنفلو کولو ثواب نیم کیږی. داعمومًا اومطلقًا دی. اوحضور ﷺ ددی حکم څخه مستثنٰی دی. هغوی ته به پوره ثواب ورکول کیږي. نو دوترو څخه وروسته په ناسته سره په نفل کولوکی به دذکر سوی قاعدی موافق نیم ثواب ورکول کیږي البته بعضی عالمان دافرمایي چي دوترو څخه وروسته دوه رکعته په ناسته کول دا مستحب دي، لکه څنګه چي قاضي ثناء الله صاحب هم همدا خبره ښوولي ده: او له وترو څخه وروسته دوه رکعته په ناسته کول مستحب دي، په اول رکعت کي سورةِ زلزال او په دوهم رکعت کي سورة کافرون، ما لابد منه ص ۲۷. ولی چه دحضور ﷺ څخه همدغه ډول ثابت دی. حضرت مولانا ګنګوهی په نوافل بعدالوتر کی هم په ناسته دکولو نیم ثواب فرمایی، اوهمدا خبره راجحه معلومیږي. (۲)

دوترو څخه مخکی او وروسته نوافل: **سوال**: (۱۷۱۲) دماخستن په لمونځ کی چه کم څلور رکعته نفل دوترو څخه مخکی او وروسته دی په هغی کی ترجیح چا لره ده؟

جواب: دماخستن په لمونځ کی دفرضو څخه وروسته دوه ۲ سُنت مؤکده دی، دهغه څخه وروسته څلور ۴ رکعته یادوه ۲ رکعته نفل او مستحب دی. دهغو څخه وروسته دی وتر وکړی بیا دوترو څخه وروسته نفل نسته. یعنی لکه څنګه چه رواج دی چه دوترو څخه وروسته دوه رکعته په ناسته کول کیږي، ددی حکم نسته. فقط

---

(۱) وان تطوع بعد المغرب بست رکعات کتب من الاوّابین الخ (غنية المستملی ص۳۲۹) وبعد مغرب دو رکعت سنت وبعد ازآن شش رکعت دیگر مستحب است آن راصلوة الاوابین گونید وبروایتی بعد مغرب بیست رکعت آمده (ما لابد منه ص ۲۷) عن عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من صلی بعدالمغرب عشرین رکعة بنی الله له بیتا فی الجنة رواه الترمذی (مشکوٰة بابِ السنن ص۱۰۴). ظفیر

(۲) ویتنفل مع قدرته علی القیام قاعداً لامضطجعا الا بعذر ابتداءاً وکذا بناءاً بعد الشروع بلا کراهة فی الاصح کعکسه، بحر، وفیه اجر غیر النبی ﷺ علی النصف الا بعذر(درمختار) اما النبی ﷺ فمن خصائصه ان نافلته قاعدا مع القدرة علی القیام کنافلته قائما فی صحیح مسلم عن عبدالله بن عمرو قلت حدثت یارسول الله انك قلت صلوة الرجل قاعدا علی نصف الصلاة وانت تصلی قاعداً قال اجل ولکنی لست کاحد منکم بحر، ملخصا (رد المحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۷۵۲ ، ط. س. ج۲ ص۳۲). ظفیر

داقامت څخه وروسته دسهار سُنت کله پوری کولی سی؟ سوال: (١٧١٧) ترامامت (اقامت) وروسته دسهار سُنت کله پوری کولی سی ؟ که چیری سُنت یې ونه کړل اوپه جَمع کی شریك سو نو بیا کم وخت سُنت کول پکار دی؟ اوتر اقامت وروسته په کم ځای کي سنت وکړی؟

جواب: دسهار دفرضو دتکبیر کیدلو څخه وروسته هم دسهار سُنت کول پکاردی لیکن په هغه ځای کی دی نه کوی په کم ځای کی چه فرض کیږی بلکه که چیری جَمع په دننه جومات کی ولاړه وی نو دباندي پر فرش باندی بلکه دفرش څخه بیل که څه ځای وی نو هلته دی سُنت وکړی اوپه فرضوکی دی شامل سی. که چیری دفرضو دیوه رکعت دنیولو هم أمید وی نوبیا دی هم سُنت وکړی. اوبعضو فرمایلی دی: چه التحیات نیولي سي نو هم دی وکړی (١) پرهر حال چونکه دسهار دسنتو تاکید زیات دی په دی وجه دادی نه پریږدی لیکن په هم هغه ځای کی دی نه کوی په کم ځای کي چه دفرضو جماعت کیږی (٢) اوپه دی باره کی دصحابه ؤ ﷺ آثار موجود دی اوددی تحقیق دمُنیه په شرح کی دی. اوکه چیری سُنت یې ونه کړل، اودامام سره شریك سو نو دفرضو څخه وروسته دلمر ختلو څخه مخکی دی سُنت نه کوی. او دلمر ختلو اولوړیدلو څخه وروسته که یې کوی نو ورته اختیار دی. ولی چه اوس هغه نفل دی که غواړی ودی کړی اوکه غواړی نه دی یې کوی. (٣) فقط

دسُننِ غیر مؤکده مسائل

دوترو څخه وروسته نوافل درست دي: سوال: (١٧١٨) بعضی خلگ وایی چه دوترو څخه وروسته هیڅ سجده نسته اوکم نفل چه دوترو څخه وروسته خلق کوی دهغه کول جائز نه دی داخبره ترکمه ځایه پوری درسته ده؟

جواب: دوتروڅخه وروسته نفل کول جائزدی لکه څنګه دبعضواصحابو ﷺ څخه معلومه

---

(١) واذا خاف فوت رکعتی الفجر لاشتغاله بسنتها ترکها (الی قوله) والاّ بان رجا ادراك رکعة فی ظاهر المذهب وقیل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالی تبعا للبحر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج١ ص٢٧٠ ، ط. س. ج٢ ص٥٦). ظفیر

(٢) لا یترکها بل یصلیها عند باب المسجد ان وجد مکانا والاّ ترکها لان ترك المکروه مقدم علی فعل السنة (در مختار) قوله باب المسجد ای خارج المسجد (الی قوله) فاذا لم یکن علی باب المسجد موضع للصلاة یصلیها فی المسجد خلف ساریة من سواری المسجد واشدها کراهة ان یصلیها مخالطا للصف مخالفا للجماعة (ردالمحتار ج ١ص ٢٧١ ، ط. س. ج٢ ص٥٦). ظفیر

(٣) واما لو فاتت وحدها فلا تقضی قبل طلوع الشمس (الی قوله) قوله احب الی دلیل علی انه لو لم یفعل لا لوم علیه الخ وقال الخلاف فی انه لو قضی کان نفلا مبتداءًا اوسنة (ایضًا ج١ ص٢٧٢ ، ط. س. ج٢ ص٥٦). ظفیر

سوه چه دوترو څخه وروسته نوافل ممنوع دی. بل داچه حضور ﷺ دوترو څخه وروسته دوه ۲ رکعته نفل کړی دی. البته دوترو څخه وروسته یادبل لمونځ څخه وروسته بغیر دوجهی یوازي سجده کول ممنوع دی. لکه څنګه چه په درمختار کی دی: لٰکنّها تکره بعد الصلٰوة. (١) الخ. فقط

په رمضان کی دتهجدو جماعت: سوال: (١٧١٩) دتهجدو لمونځ په جَمع سره په رمضان شریف کی کول اوپه هغی کی قرآن شریف اوریدل پکاردی اوکه نه؟

دنورو نوافلو جماعت: سوال: (١٧٢٠) دتراویحو اوتهجدو څخه علاوه نور نوافل په جمع سره کول اوپه هغو کي قرآن کریم ویل او اوریدل جائز دی اوکه نه؟

درمضان څخه وروسته دتهجدو او نوافلو جماعت: سوال: (١٧٢١) درمضان شریف څخه علاوه نور وخت نوافل اوتهجد په جمعی سره کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: (١) اقول وبالله التوفیق. دتهجد لمونځ په جَمعی سره کول په تَداعی (یعنی دخلقو په راببللو) سره مکروهه دی. اوحضور ﷺ چه درمضان په درو شپوکی په جَمع سره کړی دی هغه دتراویحو لمونځ ؤو. دعلامه شامی دتحقیق څخه هم همدا ظاهریږی. (٢) او حضرت مولانا حجة الواصلین قدوة العارفین عمدة الفقهاء والمحدثین مولانا رشید احمد ګنګوهی په خپله رسالة تراویح کی هم تحقیق فرمایلی دی. په دې ډول چي دحدیث مذکور دنقل کولو څخه وروسته فرمایی: ددی څخه معلومیږی چه دا دواړه لمونځونه (تراویح اوتهجد) بیل بیل دی اورسول الله ﷺ به تهجد همیشه منفرداً کوی، هیڅکله یې هم په تداعی سره په جَمع نه دی فرمایلی الخ اوپه رساله مذکوره کی بل ځای فرمایی: او دجناب رسول الله ﷺ دفعل څخه صراحةً ثابت سوی نه دی چه کله هغوی دری ورځی تراویح وکړی نوپه آخرکی یې تهجد کړی ؤ اوکه نه؟ والله اعلم، لیکن دبعضو صحابه ؤ ﷺ دفعل څخه ددی نښاني ورکول کیږي الخ، اوبیا تحریر فرمایی: لهٰذا که چیری رسول الله ﷺ ټوله شپه تروایح کړی وی نو دتهجدو هم په دی کی تداخل وسو الخ. غرض داچه حضرت مولانا قدس سره همدا تحقیق فرمایلی دی چه کم لمونځ په جَمع سره حضور ﷺ په رمضان شریف کی دری ورځی ادا فرمایلی ؤ هغه دتراویحو لمونځ ؤ او دتهجد لمونځ یې بیل کړی دی یاتداخُل سوی دی، اوداچه دتهجدوپه لمونځ کی جماعت نسته اوهمدا خبره داکثرو احادیثو څخه ثابتیږی اوحنفی علماؤ اوفقهاؤ همدا تحقیق فرمایلی دی. اوپه درمختارکی دی: ولا یُصلی الوتر ولا التطوع بجماعة

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة مطلب في سجدة الشکر ج١ ص٧٣١، ط. س. ج٢ ص١٢٠. ظ

(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل بعدمبحث التروایح ج١ ص٦٢٣، ط. س. ج٢ ص٤٨. ظفیر

خارج رمضان ای یکره ذٰلك لو علی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد الخ. درمختار، او ددی روایت څخه چه کم په رمضان شریف کی تطوع په جماعت سره فهمیږی مراد ددی څخه دتراویحو لمونځ دی. لکه څنګه چه علامه شامی په دی موقع کی تحریر فرمایلی دی: ویؤیده ایضًا ما فی البدایع من قوله الجماعة فی التطوع لیست بسنة الافی قیام رمضان (۱) اهـ شامی. او همدارنګه فرمایی: والنفل بالجماعة غیر مستحب لانه لم تفعله الصحابة فی غیر رمضان (۲) الخ شامی.

اوظاهره ده چه صحابه ؤ ﷺ کم جماعت درمضان شریف کړی دی، هغه دتراویحو جماعت ؤ لکه څنګه چه دحضرت عمر رضی الله عنه اونورو صحابه ؤ رضی الله عنهم دفعل څخه ظاهره ده او دقیام رمضان اطلاق هم پردی باندی کړل سوی دی. فقط

<u>په رمضان کی په رابللو سره دنفلو دجماعت حکم</u>: **سوال**: (۱۷۲۲) درمضان په میاشت کی په تداعی سره په جَمع کم نفل بغیر کراهته جائز دی؟

<u>دتداعی اوکراهت تفصیل</u>: **سوال**: (۱۷۲۳) دفقهی په کتابونو اوعبارتونوکی دتداعی څخه څه مراد دی او دمکروه څخه څه مراد دی، تحریمی که تنزیهی؟

<u>درمضان څخه علاوه په نورو میاشتو کی آیا دوترو جماعت درست دی؟</u> **سوال**: (۱۷۲۴) په فتح القدیر کتاب الصلٰوۃ کي دهدایي ددی قول: ولا یصلی الوتر بجماعة فی غیر شهر رمضان علیه اجماع المسلمین، په تحت کی دی: لانه نفل من وجه والجماعة فی النفل فی غیر رمضان مکروهة. نو درمضان څخه ماسِوا وتر که چیری په جَمع سره وکړل سی نو کراهت به تحریمی وی اوکه تنزیهی، په دی کی په تداعی اوغیرِ تداعی کی فرق سته او که نه؟

<u>په رمضان کی په جَمع سره تهجد</u>: **سوال**: (۱۷۲۵) علٰی هٰذا په رمضان کی تهجد په جمعی سره دکولو څه حکم دی؟

<u>په رمضان کی چي په تهجد وکی دوه ۲ څلور ۴ سړی یوځای سی</u>: **سوال**: (۱۷۲۶) که چیری یو سړی په رمضان کی تهجد شروع کړی اوپه هغه سره صرف دوه ۲ یاڅلور مسلمانان راسی اقتدا وکړی نوڅه حکم دی؟

جواب: (۱، ۲) قال فی الدر المختار: ولا یصلی الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره ذٰلك لو علی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحدٍ (۳) الخ.

---

(۱) ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۶۶۴ ، ط. س. ج۲ ص۴۸. ظفیر

(۲) ایضًا ، ط. س. ج۲ ص۴۹. ظفیر

(۳) ایضًا ج۱ ص ۶۶۳ ، ط. س. ج۲ ص۴۸. ظفیر

درمضان المبارك په مياشت کی په تداعی سره دوترو اوتراويحو جماعت جائز اومشروع او مسنون دی. اوباقی نوافل ماسِوا دتراويحو څخه په رمضان شريف کی هم په تداعی سره مکروهه دی او دتداعی معنٰی صاحب ددُرمختار دابيان فرمايلی ده: بان يقتدی اربعةٌ بواحد.

(۳) که اتفاقًا يووخت وی نو کراهت تنزيهی دی، اوکه چيری مواظبت وربا ندی وکړل سی نو کراهت تحريمی دی که په تداعی سره وی اوکه بغير دتداعی څخه وی: ثم انکان ذٰلك احيانًا کما فعل عمر ﷺ کان مباحًا غير مکروه (ای تحريمی) وان کان علی سبيل المواظبة کان بدعة مکروهاً لانه خلاف المتوارث. شامی (١)، ددی څخه معلوميږی چه په دی کی تداعی اوغير تداعی برابردی. لفظ دبدعت پر کراهتِ تحريمي باندي دلالت کوي، کما لا يخفٰی.

(۴) دتداعی څخه بغير جائز دی او دتداعی سره مکروهِ تحريمی (٢) دی.

(۵) ديوه يادوو اقتداء بلا کراهته جائزده اوپه دريوکی خلاف دی او ددی څخه زيات مکروهه دی.(قوله اربعة بواحد) اما اقتداء واحد بواحد او اثنين بواحد فلا يکره وثلاثة بواحد فيه خلاف. بحر عن الکافی، وهل يحصل بهٰذا الاقتداء فضيلة الجماعة ظاهر ما قدمناه من ان الجماعة فی التطوع ليست بسنة يفيد عدمه، تامل، بقی لو اقتدٰی به واحد او اثنان ثم جاءت جماعة اقتدوا به قال الرضی ينبغی ان تکون الکراهة علی المتاخرين، شامی (٣) ددی څخه معلومه سوه چه که چيری په شُهرت کيدلو باندی جماعت په زياتيدو سو نو تداعی ثابته سوه اوپر امام لازمه سوه چه منع يې کړی. فقط

په شب قدر اوشب برات اومعراج کی نوافل: **سوال**: (۱۷۲۸) شبِ قدر، شب معراج، شبِ برات اونورو شپوکی په جوماتونوکی راجمع کيدل اونوافل اوظائف ويل څنګه دی؟

---

(١) ردالمحتار باب الوتر والنوافل بعد مبحث التراويح ج١ ص٦٦٣ ، ط. س. ج٢ ص۴۸. ظفير

(٢) دليل هم هغه دی کم چه دمخکی مسئلی نقل کړل سو، ليکن شيخ الاسلام حضرت مدنی به په رمضان کی تهجد په جماعت سره کوی اوپه دليل کی به يې چه دفتح الباری وغيره عبارت يوځای نقل فرمايې نو هلته به يې دشامی داعبارت هم نقل کوی: والنفل بالجماعة غير مستحب لانه لم تفعله فی غير مضان (ايضًا) او فرمايل به يې: چه تهجد هم درمضان په نوافلوکی داخل دی. مفتی علاّم دبدعت دلفظ په وجهی سره مکروهِ تحريمی وليکی لکه څنګه چه په مخکی مسئله کی هغوی بحث کړی دی. ليکن علاّمه شامی چه دبدائع وغيره کم عبارت نقل کړی دی دهغه څخه صرف دومره معلوميږی چه دسُنت اواستحباب دطريقی څخه خلاف دی. لکه چه په آخره کی هغوی پخپله ليکی: وهو کالصريح فی انها کراهة تنزيهية، ليکن که چيری تهجد درمضان په نفلو کی شمار کړل سی اويقينًا دانوافل دی او په رمضان کی يی په جمع وکړه نوکراهت هم پکښی نسته. والله اعلم. ظفير

(٣) ردالمحتار باب ايضًا ج١ ص٦٦۴ ، ط. س. ج٢ ص۴۹. ظفير

جواب: ددی شپو روڼول مستحب دی. داشپی دالله ﷻ په نزد ډیري متبرکی دی په دی کی چه څومره عبادت وکړی سی. ډیر زیات داجر باعث دی، لیکن نوافل په جَمع سره کول نه دی پکار ولی چه دابدعت اومکروه (١) دی. بلکه په یوازي یوازي ډول سره دقرآنِ مجید تلاوت اونوافل وغیره کول پکاردی. دڅه خاص اجتماع ضرورت نسته. فقط

دشپی اته رکعته نفل په یوه سلام سره او دهغه طریقه: **سوال**: (١٧٢٩) ما په یو کتاب کی چي رکن الدین نومیږي لیدلی دی چه دشپی اته رکعته نفل په یوه سلام سره کولی سی. لیکن دقعدی په باره کی یې څه نه دی لیکلی، ایا ددؤو رکعتونو څخه وروسته قعده کول اوپه هغه کی درُود اودُعا کول پکاردی اوکه نه؟

جواب: قعده ترهرو دؤو رکعتونو وروسته کول پکاردی اودرُود شریف اودعاء په آخره قعده کی کول پکاردی. (٢) فقط

نفل په لازمولو سره نه لازمیږي: **سوال**: (١٧٢٩) که یو سړی گناه وکړی اوبیا پرخپله ذمه دا واجب کړی چه دلمونځ څخه وروسته کم نوافل کیږی زه به هغه ضرور کوم، دپاره ددی چه نفس دگناه اراده ونه کړی نونفل کول دهغه پرذمه واجب دی اوکه نه؟

جواب: نفل واجب نه دی، واجب دادی چه توبه او استغفار دی وکړی. فقط

دفرائضو دجبر او نقصان په نیت سره نوافل کول: **سوال**: (١٧٣٠) یوسړی نوافل په دی نیت سره کوی چه په دی سره دفرائضو دجبِر اونقصان جبیره اوبدله وسی لهٰذا دده دانیت صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دامضمون په حدیث شریف کی دی چه په نوافلو سره دفرائضو جبر او نقصان رفع کیږی. لهٰذا دانیت دده صحیح (٣) دی. فقط

دسکینی څخه څه مراد دی؟ **سوال**: (١٧٣١) په حدیث شریف کی دی چه یوصحابی دتهجد په لمونځ کی سورتِ کهف وایه، دهغه آس دهغه سره متصل تړل سوی ؤ چه په دی حال کی دآسمان څخه رڼا راکښته کیدل شروع سوه، الحدیث، چه حضور ﷺ ته ذکر

---

(١) واعلم ان النفل بالجماعة علی سبیل التداعی مکروه علی ماتقدم الخ فعلم ان کلا من صلاة الرغائب لیلة اول جمعة من رجب وصلوة البراءة لیلة النصف من شعبان وصلوة القدر لیلة السابع والعشرین من رمضان بالجماعة بدعة مکروهة الخ (غنیة المستملی باب النوافل ج١ ص٤١١). ظفیر

(٢) وتکره الزیادة علی اربع فی نفل النهار وعلی ثمان لیلا بتسلیمة لانه لم یرد والافضل فیها الرباع بتسلیمة وقالا فی اللیل المثنی افضل قیل وبه یفتی الخ لان کل شفع صلوة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٣٢ ، ط. س. ج٢ ص١٥). ظفیر

(٣) ویاتی بالسنة مطلقا الخ لکونها مکملات واما فی حقه علیه الصلاة والسلام فلزیادة الدرجات (باب ادراک الفریضة ج١ص..... ، ط. س. ج٢ ص٢٠). ظفیر

وکړل سو نووی فرمایل چه داسکینه وه. دسکینی شرح دمحقِّقینو په نزد څه ده؟ اوپه دی زمانه کی دنوافلو په کثرت سره ددی نازلیدل ممکن دی اوکه نه؟
جواب: قال اللمعات فی شرح الحدیث المذکور قوله السکینة هی الطمانینة وهی تجیئ بمعنی الرحمة وبمعنی التأنی والوقار وقیل هی ما یحصل به السکون وصفاء القلب وذهاب الظلمة النفسانیة ونزول الرحمانیة والحضور والذوق (١). فقط (نو دسکینې څخه مراد طمانیت، رحمت اوهغه شیان دی په کمو سره چه سکون اودزړه صفایی حاصله سی او نفسانی ظلمت لیری سی. اوکم چه دنزولِ رحمت باعث وی. که دزړه په حاضروالی سره لمونځونه ادا کړل سی نو په دی زمانه کی هم دغه شیان حاصلیدی سی کم ته چه سکینه وایی. ظفیر)
داتو څخه دزیاتو نفلو نیت مکروه تحریمی دی اوکه تنزیهی په عیدګاه کی دنفلي لمونځ حکم او دجومات دننه یا دباندي؟ **سوال**: (۱۷۳۲) داتو رکعتو نفلو نیت تړل یا ددی څخه زیات مکروه تنزیهی دی اوکه تحریمی؟ دعیدګاه پرفرش باندی ولی بل لمونځ مکروهه دی. دجومات فضیلت دننه او دباندي یودی اوکه کم اویا زیات دی؟
جواب: دفقهی په کتابونوکی دنوافلو په باره کی دادی چه دورځی په نفلوکی دڅلورو څخه زیات او دشپی په نفلو کی داتو څخه زیات په یوه نیت سره مکروهه دی.
نومعلومه سوه چه دشپی اته رکعته په یونیت سره کول بی کراهته درست دی البته ددی څخه زیات مکروهه دی اوددی مکروه څخه مراد مکروهِ تنزیهی دی. ولی چه په شامی کی یې ویلی دی چه بعضی مشائخ دی ته مکروهه نه وایی. نو معلومه سوه چه (مسئله) مختلف فیه ده اودا علامت دکراهت تنزیهی ده (٢) اودعیدګاه پرفرش باندی ټول لمونځونه بی کراهته جائز دی. اودجومات فضیلت دننه او دباندي یوډول دی. (٣) فقط
سُنت اونوافل په کورکی غوره دی او دعُذر په وجه په جومات کی هم: **سوال**: (۱۷۳۳) دفرضو څخه وروسته سُنت په خپلو خپلو کورونوکی کول ښکاردی اوکه په جومات کی،

---
(١) وګوری حاشیه مشکوٰة باب فضائل القرآن ص ۱۸۴ . ظفیر
(٢) وتکره الزیادة علی اربع فی نفل النهار وعلی ثمان لیلا بتسلیمة لانه لم یرد والافضل فیهما الرباع بتسلیمة (درمختار) نعم وقع الاختلاف بین المشائخ المتأخرین فی الزیادة علی الثمانیة لیلا فقال بعضهم لایکره والیه ذهب شمس الائمة السرخسی الخ (ردالمحتارباب الوتر والنوافل مطلب فی لفظة ثمان ج١ ص ٦٣٢ – ٦٣٣ ، ط. س. ج٢ ص١٥). ظفیر
(٣) اما المتخذة لصلاة جنازة اوعید فهو مسجد فی حق جواز الاقتداء وان انفصل الصفوف رفقا للناس (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلاة الخ مطلب فی احکام المسجدج١ ص٦١٥، ط. س. ج١ ص٦٥٧) ددی څخه معلومه سوه چه په دي ډول دلمونځ کولو په درجه اولی اجازت سته . ظفیر

ولی چه دجومات څخه دبعضو لمونځ ګزار کور پنځوس ګزه، دچا دا سل ۱۰۰ ګزه او دچا دا نیم فرلانګ (1) لیری وی اوظاهره ده چه په برما اوګجرات (هندوستان) وغیره کی دهر قوم ښځی بی پردی ګرځی (ماسِوا دمسلمانانو دښځو څخه) چه په جومات کی فرض وکړی اوکورته ځی نودیو مسلمان دوست یامشرك یا مشرکی سره به لیدل کتل مخ ته راځي، څه نا څه ددُنیا خبری به کوی. غرض داچه دجومات څخه ترکوره پوری په رسیدو رسیدو کی ډیر نقصانونه دی. نوپه دی صورت کی دسُنتو دپاره کورته تلل غوره دی او که په جومات کی کول؟

جواب: قال فی الدرالمختار والافضل فی النفل غیر التراویح المنزل الا لخوف شغل عنها الخ اوپه شامی کی دی: وحیث کان هٰذا افضل یراعی ما لم یلزم منه خوف شغل عنها لو ذهب لبیته اوکان فی بیته ما یشغل باله ویقلل خشوعه فیصلیها حینئذٍ فی المسجد لان اعتبارالخشوع ارجح (2) الخ، ددی عبارتونو څخه معلومه سوه چه دسنتو اونفلو دپاره کور غوره دی لیکن که چیری په لاره کی دا بیره وی چه زړه به پریشانه سی اوخشوع به حاصله نه سی یا دغیرِ ضروری خبرو کولوپه وجه به په ثواب کی نقصان وسی نوپه داسی صورت کی یې په جومات کی کول غوره دی. ولی چه زیات تره لحاظ دخشوع اوخضوع دی په هر ځای کی چه داحاصلیږی بس هغه بهتر دی. فقط

<u>صلوٰة الاوّابین او دتهجد رکعتونه او دتراویحو لمونځ</u>: سوال: (۱۷۳۴) دصلوٰة الاوَّابین کم از کم رکعتونه څودی اودتهجدو دا څودی. او دتراویحو جماعت په جومات کی غوره دی اوکه په کورکی؟ اوپه یوه جومات کی دتراویحو دوهمه جَمع غوره ده اوکه په کور کی؟

جواب: دصلوٰة الاوَّابین شپږ رکعته دی دماښام (3) ددؤو سنتو مؤکده ؤ څخه علاوه او دتهجدو لمونځ اته رکعته دی، زیات تردوولسو ۱۷ پوری دی اوکم تر دؤو رکعتو پوری (4)، دتراویحو دلمونځ جماعت په جومات کی غوره (5) دی. دتراویحو دویمه جَمع په جومات کول نه دی پکار.

---

(1) فرلانګ : (Furlong) دوه سوه شل ۲۲۰ انګریزي ګزه فاصله ده ، یعني دمیل اتمه حصه . حقاني۔

(2) ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۳۸ ، ط. س. ج۲ ص۲۲. ظفیر

(3) وستَ بعد المغرب لیکتب من الاوابین بتسلیمة او ثنتین اوثلاث والاول ادوم واشق (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی السنن والنوافل ج۱ ص۲۳۱ ، ط. س. ج۲ ص۱۳). ظفیر

(4) وصلاة اللیل واقلها علی مافی الجوهرة ثمان (درمختار) قید بقوله علی مافی الجوهرة لانه فی الحاوی القدسی قال یصلی ما سهل علیه ولورکعتین والسنة فیها ثمان رکعات باربع تسلیمات (ردالمحتار مطلب فی صلاة اللیل ج۱ ص ۲۴۰ – ۲۴۱ ، ط. س. ج۲ ص۲۴). ظفیر

(5) والجماعة فیهاسنة علی الکفایة الخ فالمسجد فیها افضل قاله الحلبی (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار =

نفل په جمعه جائزدی که نه؟ سوال: (۱۷۳۵) نفل په جماعت سره جائز دی اوکه نه؟ ماپه يو کتاب کی داعبارت ويلی دی: دمخدوم جهانيان څخه په جامع العلوم کي دي چي هغوي څلور رکعته لمونځ په امامت سره وکړی، سلطان فيروزشاه اوعلماء په هغوکي وه، عالمانو وويل چي نفلي لمونځ په جماعت سره په نزد دامام ابوحنيفه رحمه الله مکروه دی، بيا راوړي چي هغوی خپل مبارك مخ بادشاه ته راوګرځوی، اوويې ويل چي په کافی نومي کتاب کي دي: يجوز للمؤمنين ان يعمل فی العبادات علی مذهب غيره وفی المعاملات لايجوز والتطوع بالجماعة يجوز عند الشافعی، علماؤ دهغه په قول اعتراف وکړی، بينوا تؤجروا .

جواب: نفل په جماعت سره کول نه دی پکار ځکه چه صحيح همداده چه دنفلو جماعت په تداعی سره مکروهه دی. اودتداعی تفسير دادی چه څلور مقتديان په جماعت کی وی، نو دا بالاتفاق مکروهه دی اوچه دری مقتديان وی نو په دی کی اختلاف دی. اوچه يو يا دوه مقتديان وی نو کراهت پکښی نسته کذا فی الشامی، (۱) حاصل داچه دنفلوکم جماعت چي به دنفلو څخه وروسته کيدی دهغه پريښول ضروری دی او اوس کله چه پرېښوول سوی دی هرګز يې بيا جاری کول نه دی پکار، کنې دبدعت جاری کولو ګناه به وی، کما جاء فی الحديث. او دجامع العلوم کم عبارت چه مو دمخدم جهانيان په حوالی سره نقل کړی دی هغه حُجّت نه دی، په دې سره استدلال کول نه دی پکار. فقط

دتراويحو څخه وروسته دنفلو جماعت: سوال: (۱۷۳۶) آيا دتراويحو څخه وروسته دری ۳ کسان دثواب حاصلولو دپاره نفل په جَمع سره کولی سی، آيا دتراويحو څخه وروسته په جَمع سره نفل مطلقًا درست نه دی برابره خبره ده که په شمير کی ادا کونکی دری ۳ وی اوکه زيات وی؟

جواب: دنفلو جماعت ماسِوا دتراويحو څخه سُنت اومستحب نه دی بلکه په بعضو صورتونو کی مکروهه اوپه بعضو کی مباح دی. ددی وجه دفضيلت دجماعت اجازت سته، خوجماعت نه کول اولی دی. لهٰذا مطلقًا دنفلو جماعت کول نه دی پکار. په در مختار کی دی: ولايصلی الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان ای يکره ذالك لو علی

= مبحث فی التراويح ج۱ ص۲۲۱، ط.س. ج۲ ص۴۵) وظاهر کلامهم هنا ان المسنون کفاية اقامتها بالجماعة فی المسجد حتی لو اقاموها جماعة فی بيوتهم ولم تقم فی المسجد اثم الکل (ردالمحتار ايضًا). ظفير

(۱) ولايصلی الوتر ولاالتطوع بجماعة خارج رمضان ای يکره ذالك لوعلی سبيل التداعی بان يقتدی اربعة بواحد (درمختار) قوله اربعة بواحد اما اقتداء واحد اواثنين بواحد فلايکره وثلاثة بواحد فيه خلاف الخ (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص ۲۲۳ – ۲۲۴ ، ط. س. ج۲ ص۴۸). ظفير

سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد کما فی الدرر. ویؤیده ایضًا ما فی البدائع من قوله ان الجماعة في التطوع لیست بسنة الاً فی قیام رمضان (۱) الخ. ددی عبارت څخه معلومه سوه چه ماسوا دتراویحو څخه بل هیڅ یونفل په جَمع سره نه دی کول پکار.

[**په نفلي لمونځ په ګوتو سره شمار کول**:] **سوال**: (۱۷۳۷) په نفلي لمونځ کی پر ګوتو باندی شمار کول جائز دی او که نه؟

جواب: که چیری همداسی شمار نه ورته یادیږی نو پرګوتو باندی په اشارې سره شمار کول درست دی. (۲)

چه کم ځای فرض وکړی دهغه ځای څخه په جلا ځای کی نفل کول پکار دی: **سوال**: (۱۷۳۸) داحادیثو څخه ترفرضو وروسته په ځای بدلولوسره سُنت اونفل کول په جومات کی ثابتیږی اوکه نه؟ دفرضو څخه وروسته په ځای بدلو سره سُنت، یا نفل کول چه کم مسنون دی نودا صرف دجومات دپاره دی اوکه په کور کی دلمونځ کوونکو دپاره هم مسنون دی؟

جواب: قال فی الدر المختار وفی الجوهرة ویکره للامام التنفل فی مکانه لا لمؤتم وقیل یستحب کسر الصفوف وفی الخانیة یستحب للامام التحول لیمین القبلة یعنی یسار المصلی الخ، وفی ردّ المحتار قوله: لا للمؤتم ومثله المنفرد لما فی المنیة وشرحها اما المقتدی والمنفرد فانهما ان لبثا اوقام الی التطوع فی مکانهما الذی صلیا فیه المکتوبة جاز والاحسن ان یتطوعا فی مکان آخر الخ قوله: وقیل یستحب کسر الصفوف لیزول الاشتباه عن الداخل المعاین للکل فی الصلٰوة البعید عن الامام وذکره فی البدایع والذخیرة عن محمد ونص فی المحیط علی انه السنة کما فی الحلیة الخ. شامی (۳)

ددی عبارتونو څخه واضحه ده چه عند الحنفیه هم صفونه ماتول اوپه مخ ته او وروسته یا هاخواته کیدلو سره سُنت اونفل کول مستحب دی. اودشامی دعبارت څخه کم چه دمنفرد په باره کی دی دا معلومیږی چه په کور کی دلمونځ کونکي دپاره هم نفل په بل

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۶۶۳ ، ط. س. ج۲ ص۴۸. ظفیر

(۲) وکره تنزیهاعدُّ الای والسور فی الید فی الصلوة مطلقًا ولو نفلا (درمختار) قوله ولو نفلا: بیان الاطلاق وهٰذا باتفاق اصحابنا فی ظاهر الروایة ومن الصاحبین فی غیر ظاهر الروایة عنهما انه لاباس به وقیل الخلاف فی الفرائض ولا کراهة فی النوافل اتفاقا وقیل في النوافل ولا خلاف في الکراهة في الفرائض، نهر (ردالمحتار باب مایکره فی الصلاة ج۱ ص۶۰۸ ، ط. س. ج۱ ص۶۵۰). ظفیر

(۳) ردالمحتار، باب صفة الصلاة قبیل فصل القراءة ج۱ ص۴۹۵ ، ط. س. ج۱ ص۵۳۰. ظفیر

ځای کی کول بهتردی.

دماخستن تر سُنتو وروسته نفل: **سوال:** (١٧٣٩) دماخستن دفرضو څخه وروسته تردوه رکعته سنت کولو چه کم دوه ٢ رکعته نفل کوی نودا درسول الله ﷺ څخه ثابت دی اوکه نه؟

جواب: دماخستن تر دؤو رکعتو سُنتِ مؤکده ؤ وروسته دوه ٢ یا څلور رکعته نفل کول دوترو څخه مخکی مستحب دی، لکه څنګه چه دحضرت عائشې ﵂ په حدیث کی دی: قالت ما صلّی رسول الله ﷺ العشاء قطّ فدخل علیَّ الاَّ اربع رکعات اوست رکعات، رواه ابوداؤد. ([1])

دمازیګر اوماخستن دفرضو څخه مخکي دنفلونو په اولنۍ قعده کی به درُود اودُعا هم وایی اوکه صرف التحیّات؟ **سوال:** (١٧٤٠) دمازدیګر اوماخستن دفرضو څخه مخکی دڅلورو رکعتو سُنتو په مینځنۍ قعده کی صرف دالتحیّات ویلو څخه وروسته دریدل پکاردی او که درُود شریف دی هم ووایي؟

(٢) که چیری دڅلورو رکعتو نفلو نیت وکړل سی نو په داسی حالت کی به دهغو په مینځنۍ قعده کی صرف دالتحیات ویلو څخه وروسته باقی رکعتونه پوره کوی، اوکه درُود اودُعا به هم وایی؟

جواب: (١، ٢) په درمختارکی دی چه دماپښین اوجُمعې دسنتوڅخه ماسِوا دباقی څلورو رکعتو سُنتو اونفلو په اولنۍ قعده کی دی درود شریف اوپه دریم ٣ رکعت کی دی ثنا اوتعوذ ووایی: وفی البواقی من ذوات الاربع یصلّی علی النبی ﷺ ویستفتح ویتعوذ ([2]). الخ

دوترو څخه وروسته نفل به څنګه کوی؟ **سوال:** (١٧٤١) دوترو څخه وروسته نفل به په ناستی کوی او که په ولاړه؟ او دنبی ﷺ څخه څنګه ثابت دی ؟

جواب: په دواړه ډوله درست دی خوپه ولاړه په (ادا) کولوکی دوچنده ثواب دی دناستی په نسبت کولوکی. اوحضور ﷺ (دانفل) په ناسته کړی دی. لیکن هغوی ﷺ ته په ناسته کولو سره پوره ثواب ورکول کیدی، اونورو (خلقو) ته نیم ثواب ورکول کیږي داحادیثو څخه دا ثابت دی. ([3])

([1]) مشکوٰة باب السنن ص١٠۴ فصل ثانی . ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٣٣ ، ط. س. ج٢ ص١٢. ظفیر

([3]) ویتنفل مع قدرته علی القیام قاعدا لا مضطجعا الا بعذر ابتداءًا وکذا بناءاً بعد الشروع بلا کراهة فی الاصح کعکسه وفیه اجر غیر النبی ﷺ علی النصف الاَّ بعذر (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل =

دجُمعې په ورځ دغرمې نفل څنګه دي؟ سوال: (١٧٤٢) نفل لمونځ په تکنده غرمه کې خاصکر دجُمعې په ورځ کول دامام ابویوسف دقول څخه ثابتیږي، په درمختار کې یې لیکلي دي: کره تحریما الخ استواء الا نفل یوم الجمعة علی قول الثانی المصحح المعتمد كذا فی الاشباه ونقل الحاوی عن الحلبی ان علیه الفتوی. اوپه فتاوی قاضی خان کې دي: وعن ابی یوسف قال یجوز التطوع عند انتصاف یوم الجمعة.
چونکه علامه شامي رحمه الله په ردالمحتار کې ډېر څه اختلاف ذکر کړی دی، په دې وجه بعضې منع ورځخه فرمایي. شرعًا څه حکم دی؟

جواب: منع کول یې احوط دی، لکه څنګه چه په شامي کې ذکر سوی دی. (١)

دعشق لمونځ: سوال: (١٧٤٣) که څیری یوځوك دوه ٢ رکعته دعشق لمونځ په دې ډول وکړي چه په قیام کې شل واری دالله ذکر پرزړه باندی لکه څنګه چه په خارج کې کوی وکړي دهغه څخه وروسته په رکوع کې لس ١٠ واری اوپه قومه کې لس ١٠ واري اوپه سجده کې لس ١٠ واری بیاپه جلسه کې لس ١٠ واری بیا دلمونځ څخه وروسته دا درُود: اللّهمَّ صَلِّ وسَلِّمْ وبارك علی من اسمه سیدنا محمد عدد ما فی علم الله صلوةً دائمةً بدوام ملك الله، په کثرت سره ووایي بیا وروسته دادُعا وغواړي: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مَحْبُوْسِ مَحَبَّتِكَ وَمَسْجُوْنَ عِشْقِكَ وَمَفْتُوْنَ شَوْقِكَ وَمَجْنُوْنَ لِقَآئِكَ وَاعْطِنِيْ دَآءَ مَحَبَّتِكَ يَا اَهْلَ الْمُشْتاقِيْنَ وَارْزُقْنِيْ دَاءَ مَحَبَّتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ، په زړه باندی ذکر لکه څنګه چه دلمونځ څخه دباندې کول کیږي په لمونځ کې جائز دی اوکه نه؟ اوپه دغه ډول لمونځ کول په طریقت او شریعت کې جائزدي اوکه بل څه حکم دی؟ که لږ تحقیق یې وسی نو ډیره به ښه وی. بل په لمونځ کې تصور دشیخ کول جائزدی اوکه نه؟ څوك چه داسی کوی هغه کافردی او که نه؟

جواب: دعشق دا لمونځ چه کم تاسی لیکلی دی دشریعت په قاعدی سره ددې هیڅ اصل نه معلومیږي. اوپه طریقت کې هغه عبادت معتبردی کم چه په شریعت کې ثابت وی او شرعًا جائزوی. شرعًا په ذکر سوی طریقه په شریعت کې داسی لمونځ نسته. لیکن په دی کې څه خبره دکفر اومعصیت هم نسته. البته دسُنت طریقې څخه خلاف دی. اوچونکه ماسِوا دذکرِ قلبي څخه بل څه امرِ زائد په دی کې دلمونځ داورادو څخه نسته، ددی وجه

= ج١ ص٢٥٣ ، ط. س. ج٢ ص٣٢). ظفير

(١) لکن شراح الهداية انتصروا لقول الامام واجابوا عن الحديث المذكور باحاديث النهی عن الصلوة وقت الاستواء فانها محرمة (ردالمحتار كتاب الصلوة ج١ ص٣٤٥، ط. س. ج١ ص٣٧٣). ظفير

څخه دکفر هیڅ وجه نسته. البته تصورِ شیخ که په لمانځه کی په دا شان عمداً کوی چه دشیخ صورت یې بالقصد پیشِ نظروی نو دا ناجائز دی، اګرچه کفر نه دی لیکن داسی کول نه دی پکار، ولی چه مشائخ رحمهم الله چي دکم تصور دشیخ اجازت ورکوی دهغه مطلب دادی چه دخپل شیخ سره داسی محبت وی چه بغیر دارادی څخه دشیخ تصور په زړه کی وسی اوقلبی تعلق حاصل سی. دانه چه بالقصد دشیخ صورت دنظر په وړاندي کړی بلکه مثال دتصوّرِ دشیخ کم چه جائز دی، داسی کیدل پکاردی لکه څنګه چه مینه کونکی عاشق ته دخپل محبوب تصوّر بغیر دارادی څخه کیږی. په دی کی هیڅ اختیارنه وی او همدا هغه خاص مرتبه ده، یعنی فنا فی الشیخ.

نوضروری ده چه په لمونځ کي دذکر سوی تصوّر څخه پرهیز وکړی. باقی پربی اختیاره حالت باندی هیڅ حکم نسی کیدی هغه مجبور اومعذور دی. دعشق په لمونځ کی چه کم تاسی لیکلی دی که چیری تصور دشیخ (بالاختیار) اودغیر الله طرفته په هغه کی توجه نه وی نوصرف قلبی ذکر په ذکر سوی طریقه که سره له قراءته اوتسبیح اونورو دلمونځ دضروریاتو، فرائضو اوسننو اوآدابو څخه وی نوپه دی کی صرف دومره تامّلُ دی، چي په قیام کی دفاتحې اوسورت دویلو څخه وروسته دقلبی ذکر دپاره زیات دریدل غواړی، حال داچي درکوع طرفته په تللوکی تاخیر کول دشرعی قواعدو څخه خلاف دی، حکم دا دی چه دفاتحی اوسورت دویلو څخه وروسته سمدستی رکوع وکړی او (همدغه شان) په رکوع کی دتسبیح څخه دفارغیدلو څخه وروسته دی فوراً قومه وکړی. هم دغه شان په ټول لمونځ کی حکم دی. نودا تاخیر کم چه هرځای به دقلبی ذکر دپاره کیږی دشرعی لمونځ څخه خلاف دی. لهٰذا دبنده (مفتي صاحب) په خیال کی اَحْوَط داده چه داسی دی نه کوی اودشرعی قواعدو موافق دی لمونځ کوی. دلمونځ څخه خارج ډیر وخت داسی سته چه په هغه کی دزړه دخواهش مطابق څومره چي وغواړی ذِکر دی کوی. اوکه یوه بزرګ په یوه مرید باندی دیومخصوص علاج په طور دافعل کړی وی نوضروری نه ده چه دادی همیشه کوی. فقط، والسلام مع الاکرام، والله تعالی اعلم بالصواب.

نفل کونکی به دبل چاپه زوره قرآن ویلو په وجه لمونځ نه پریږدی: **سوال**: (۱۷۴۴) یوسړی په جومات کی نقل کوی. بل سړی په لوړ آواز سره دُعا غوښتل شروع کړل او دقرآن شریف آیتونه یې ویل شروع کړل. نو نفل کونکی سړی لمونځ مات کړی آیتونه واؤری او که په نفلو دی لګیا اوسی. اوچا چه دنفلو پروا ونه کړه دهغه دپاره څه حکم دی؟

جواب: نفل لمونځ کونکی دی لمونځ نه ماتوی، اوچا چه په لوړ آواز سره دُعا غوښتل شروع کړل هغه بی ځایه کار وکی هغه لره په کراره دُعا غوښتل پکاردی اوقرآن شریف په

کرار ویل پکاردی. نفل لمونځ کونکی لره دقرآن شریف اوریدلو په وجهی سره لمونځ ماتول نه دی پکار. اوپه دی کی به هغه نه گنهگاریږی، گنهگار به هغه څوك وی چه په داسی موقع کی په لوړ آواز سره ویل کوی. (۱) فقط

په نوافلو کی اوږد قراءت: **سوال:** (۱۷۴۵) نوافل په اوږد قراءت سره کول بهتر دی اوکه دقرآن مجید تلاوت بهتردی؟

جواب: نوافل په اوږد قراءت سره کول بهتردی. (۲) فقط

نفل لمونځ په شروع کولو سره واجب سی که چیری شروع یې صحیح وی: **سوال:** (۱۷۴۶) که چیری چا نفل لمونځ شروع کړی کله چه یو رکعت یې وکی، نو معلومه سوه چه جامه یې پلیته ده، لمونځ یې دشروع کولو څخه وروسته مات کړی، آیاددی لمونځ اعاده واجبه ده اوکه نه؟

جواب: مسئله داده چي نفل لمونځ په شروع کولوسره واجبیږی. نوکله چه چا نفل لمونځ دشروع کولو څخه وروسته په څه وجهی سره مات کړي نو پرهغه باندی ددغه لمونځ اعاده واجب ده. هٰکذا فی کتب الفقه. لیکن په درمختارکی دی چه که چیری شروع یې صحیح نه وه نواعاده نه واجبیږی. عبارته: ولزم نفل شرع فیه الخ شروعًا (۳) صحیحًا الخ. چونکه په دی صورت کی شروع نه ده صحیح سوی ولی چه دلمو نځ گزار جامی دشروع څخه پلیتی وی. لهٰذا ددی لمونځ اعاده به واجبه نه وی. فقط

دماسخوتن دلمونځ څخه مخکی څلور رکعته سُنت: **سوال:** (۱۷۴۷) دماخستن څخه مخکی دڅلورو سُنتو څه حکم دی؟

جواب: دماخستن دلمونځ څخه مخکی څلور رکعته سُنت کول مستحب اوغوره دی، سنت مؤکده نه دی ولی چه سُنن مؤکده په شپه او ورځ کی دولس دی څلور رکعته دماپښین د

---

(۱) الاّ انه یجب علی القاری احترامه بان لا یقرأ فی الاسواق ومواضع الاشتغال فاذا قرأ فیها کان هو المضیع لحرمة فیکون الاثم علیه دون اهل الاشتغال دفعًا للحرج فی الزامهم ترك اسبابهم المحتاج الیها وکذا لو قرأ عند من یشتغل بالتدریس اوبتکرار الفقه لانه اذا أبیح ترك الاستماع لضرورة المعاش الدنیوی فَلأنْ یباح لضرورة الامر الدینی اولی فیکون الاثم علی القاری هٰذا اذا سبق الدرس علی القراءة (غنیة المسملی فصل فی احکام زلة القاری فوائد ص**۴۲۵**). ظفیر

(۲) وکثرة الرکوع والسجود احب من طول القیام کما فی المجتبی ورجحه فی البحر لکن نظر فیه فی النهر من ثلاثة اوجه ونقل عن المعراج ان هٰذا قول محمد وان مذهب الامام افضلیة القیام وصححه فی البدایع قلت وهٰکذا رأیته بنسختی المجتبی معزیا لمحمد فقط فتنبه (درمختار) واقوی دلیل ایضا علی افضلیة طول القیام انه ﷺ کان یقوم اللیل الاّ قلیلا وکان لا یزید علی احدی عشرة رکعة الخ (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص**۲۳۴**). ظفیر

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص**۲۴۵** . ظفیر

لمونځ څخه مخکی اودوه ۲ رکعته دماپښین څخه وروسته اودوه ۲رکعته دماښام څخه وروسته اودوه ۲ رکعته دماخستن دلمونځ څخه وروسته اودوه ۲ رکعته دسهار دفرضوڅخه مخکی. (١) داټول دولس١٢ رکعته سُنت مؤکده (٢) دی، او دمازیګر څخه مخکی څلور رکعته یا دوه ۲ رکعته اودماخستن دلمونځ څخه مخکی څلور رکعته دامستحب دی. لقوله علیه الصّلٰوة والسّلام: بَیْنَ کُلِّ اَذَانَیْنِ صَلٰوةٌ ، الحدیث (٣) فقط.

تحیة المسجد به جومات ته دداخلیدلو په وخت کی کوی اوکه دناستی څخه وروسته؟ سوال: (١٧٤٨) زید چه کم وخت جومات ته راسی نواول کښینی، بیا پاڅیږی اوتحیة الوضوء او نوافل وغیره کوی. خالد وایی، چه اکثره به رسول الله ﷺ مسجدِ نبوی ته تشریف راوړی او اکثره اصحاب به چه کم وخت جومات ته داخل سوه نو دوه ۲ رکعته تحیّة الوضوء لمونځ به یې وکی بیابه کښینستله، په دی باره کی دچا قول لره ترجیح ده؟

جواب: اولی اومستحب دادی چه که چیری جومات ته دداخلیدلو په وخت کی یې اودس وی اوپه وخت کی ګنجائش هم وی نومخکی دی دوه ۲ رکعته تحیة المسجد وکړی بیا دی کښینی (٤) او داکم رواج چه جوړ سوی دی چه جومات ته دداخلیدلو څخه وروسته کښینی بیا تحیة المسجد وغیره کوی نو ددی هیڅ اصل نسته. فقط

صلٰوة الاوّابین او دهغه تحقیق: **سوال**: (١٧٤٩) په مشارق الانوارکی یې دصلٰوةِ اَوّابین په باره کی لیکلی دی چه اَوّاب په لُغت کی هغه وخت ته وایی کم وخت چې دأوښ دبچی پښې دګرمی څخه په سوزید و سی اودغه وخت یؤولس نیمی بجی وی. نو په حقیقت کی دصلٰوةِ اَوّابین وخت دماښام څخه وروسته دی اوکه داوخت دی. اوکه دواړه وختونه دی. پر تقدیرِ ثانی اولوِیّتِ په کم وخت کي دی؟

جواب: داَوّابین معنٰی ده الله ﷻ ته رجوع کونکی. نو په دی اعتبار سره ټولو لمونځونو ته

---

(١) ویستحب اربع قبل العشاء وبعدها بتسلیمة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٣٠ ، ط. س. ج٢ ص١٢). ظفیر

(٢) وسن مؤکدا اربع قبل الظهر واربع قبل الجمعة واربع بعدها بتسلیمة الخ ورکعتان قبل الصبح وبعد الظهر المغرب والعشاء (ایضاً، ط. س. ج٢ ص١٢). ظفیر

(٣) مشکوٰة المصابیح باب فضل الاذان فصل اول ص٦٥ . ظفیر

(٤) ویسن تحیة رب المسجد وهی رکعتان واداء الفرض وغیره وکذادخوله بنیة فرض اواقتداء یتوب عنها بلانیة وتکفیه لکل یوم مرة ولاتسقط بالجلوس عندنا (درمختار) والحاصل ان المطلوب من داخل المسجد ان یصلی فیه لیکون ذالك تحیة لربه الخ والاّ لزم فعلها بعد الجلوس وهوخلاف الاولی الخ اما حدیث الصحیحین اذا دخل احدکم المسجد فلا یجلس حتی یصلی رکعتین فهو بیان للاولی (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی تحیة المسجد ج١ ص ٢٣٥ – ٢٣٢ ، ط. س. ج٢ ص١٨). ظفیر

آوّابين ويل كيدى سى. ليكن په احاديثو كى ددؤو وختونو پرنوافلو باندى دآوّابينو اطلاق راغلى دى، يوپر صلٰوةِ ضُحٰى باندى لكه څرنګه چه په سوال كى درج دى، اوبل دمابنام څخه وروسته پرنوافلو باندى لكه څنګه چه په كبيرى شرح مُنيه كى منقول دى: وان تطوع بعد المغرب بست ركعات فهو افضل لحديث ابن عمر ﷺ انه ﷺ قال: من صلى بعد المغرب ست ركعات كتب من الاوابين وتلا انه كان للاوابين (١) غفوراً، الآية. نوددى دويم ٢حديث په وجهى سره دصلوةِ آوّابين اطلاق اكثره دمابنام څخه پر وروسته نفلو باندى كيږى. قال فى الدرالمختار: و ست بعد المغرب ليكتب من الاوّابين (٢) الخ، اوددى څخه انكار نسته چه صلٰوة ضُحٰى هم صلٰوةِ آوّابين دى بلكه دى ته هم صلٰوةِ آوّابين ويلى سو. فقط والله تعالى اعلم

دماخستن څخه مخكى څلور سُنتونه او دهغو ثبوت: **سوال**: (١٧٥٠) دزيد دعوٰى ده چه دماخستن دلمونځ څخه مخكى دڅلورو ركعتونو ثبوت دهيڅ صحيح حديث څخه نه كيږي. آيا دادحديث څخه ثابت دى اوكه نه؟

جواب: په درمختار كى دى: ويستحب اربع قبل العصر وقبل العشاء وبعدها بتسليمة وان شاء ركعتين (٣) الخ، ددى عبارت څخه معلومه سوه چه قبل العصر اوقبل العشاء په دؤو ياڅلورو ۴ ركعتونو كولوكى اختياردى اودا سنت مؤكده نه دى بلكه مستحب دى، كه خوښه يې وى ودى كړى اوكه خوښه يې وى نونه دى كوى. ليكن په كولوكى يې ثواب دى. اودحديث: بَيْنَ كلِّ اَذَانَيْنِ صَلٰوةٌ، څخه استحباب دنوافلو قبل العشاء هم ثابت دى (البته دمابنام څخه مخكى هيڅ نفل عند الاحناف نسته اوددى تائيد دبُريده الاسلمى ﷺ دحديث څخه كيږى. ظفير)

دلمونځ څخه وروسته په مروّجه دُعاكى شركت خلاف سُنت دى: **سوال**: (١٧٥١) دلته دا طريقه ده چه امام دمابنام فرض وكړى اوسُنت يازيات دوه ٢ ركعته نور، او دنفل كولو څخه وروسته درى وارى دُعا كوى. اوس زيدته اوّابين نفل پاته دى آيا هغه دسُنتو سره متصل په نفل كولو كى مشغول سى، اوكه دامام سره دُعا وكړى. كه چيرى نفل كول بهتر وى نوپه كم ځاى كى دي وكړى، حال دادى چه امام اخته وى دُعا كوى؟

جواب: كم سړى چه دنوافلو اوّابينو كولو اراده لرى هغه دى دامام درسمى دُعا انتظار نه كوى ولى چه ددُعا داطريقه پخپله خلاف سُنت ده او نوافل چه هر ځاى موقع ووينى هلته

(١) غنية المستملى شرح منية المصلى فصل فى النوافل ص٣٢٩ . ظفير
(٢) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٣١ ، ط. س. ج٢ ص١٢. ظفير
(٣) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٣٠ ، ط. س. ج٢ ص١٢. ظفير

دی وکړی. (١) فقط

دسُنت مؤکده اوفرضو په مینځ کی نفل: **سوال**: (۱۷۵۲) دسُنت مؤکده اوفرضو په مینځ کی نوافل کولی سی اوکه نه؟ چه په جَمع کی وخت وی نو په نوافلوکی مشغوله کیدل څنګه دی؟

جواب: دسنن مؤکده کولو څخه وروسته که چیری په جَمع کی وخت وی، نوپه نوافلو کولوکی څه حرج نسته، ماسِوا دسهار دسُنتو څخه چه دهغه څخه وروسته نوافل ترلمر ختلو او پورته کیدلو پوری درست نه دی. په درمختار کی دی: وکذا الحکم من کراهة نفل الخ بعد طلوع فجر سوٰی سنة (٢) نوپه نورو وختونوکی مثلاً دماپیښین په لمونځ کی دسُنت موکده کولو څخه وروسته که چیری په وجه دتاخیر دجماعت یوسړی په نوافلوکی مشغول سی نو حرج نسته پکښی، ولی چه دغه وخت دنوافلو دکراهت څخه دی.

دمازیګر څخه مخکی څلور مستحب: **سوال**: (۱۷۵۳) دمازیګر څلورمستحب به موږهمیشه دڅلورو ۴ رکعتو سُنتِ مؤکده ؤ پشان کول. یوصاحب بزرګ فرمایی چه خاصکر دمازیګر په څلورو مستحبو اونفلوکی دمینځ والا دتشهد څخه وروسته دی درُود شریف اودُعا ضرور وایی دهغه څخه وروسته دی ولاړ سی اوباقی دوه ۲ رکعته دی وکړی؟

جواب: په درمختارکی دی چه دماپښین اودجُمعی څخه دمخکی څلور رکعته سنتو څخه ماسِوا دباقی سُنتو اونفلو ترمینځ دتشهد څخه وروسته دی درُود شریف اودعا وایی، اوپه دویمه شُفع کی دی ثناء اواعوذُ بالله هم وایی، دی ته شامی راجح اواقوٰی ویلی دی. اوبل قول یې په درمختار کی دالیکلی دی چه په مینځنی قعده کی دی درُود شریف وغیره نه وایی. لیکن دی ته شامی ضعیف ویلی دی لیکن صاحب دقُنیه ددی تصحیح فرمایلی ده. اوپردی بِنا باندی بیشکه دمازدیګر څخه په مخکنیو څلورو سُنتونوکی دمینځ دتشهد څخه وروسته درُود شریف اوپه دویمه شفعه کی ثناء وغیره ویل پکاردی. باقی که چیری څوك یې ونه وایی نوڅه حرج پکښی نسته ځکه چه داهم یوقول دی: وقیل لا یأتی فی الکل وصححه فی القنیة. درمختار. (٣) فقط

---

(١) وګوری مشکوٰة المصابیح عن البخاری ومسلم باب فضل الاذان ص ۶۵ . ظفیر

(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلوة ص ۳۴۹ ، ط. س. ج۱ ص۳۷۵. ظفیر

(٣) ولا یصلی علی النبی ﷺ فی القعدة الاولی فی الاربع قبل الظهر والجمعة وبعدها ولو صلی ناسیا فعلیه السهو وقیل لا، ولایستفتح اذا قام الی الثالثة منها لانها لتاکدها اشبهت الفریضة وفی البواقی من ذوات الاربع یصلی علی النبی ﷺ ویستفتح ویتعوذ ولونذرا لان کل شفع صلاة وقیل لایاتی فی الکل وصححه القنیة (در مختار) قوله لان کل شفع صلاة قدمنا بیان ذالك فی اول بحث الواجبات والمراد من بعض الاوجه قوله قیل لا الخ قال فی البحر ولایخفی مافیه والظاهر الاول زاد فی المنح ومن ثم اولنا علیه وحکینا مافی القنیة بقیل (رد =

که چيري قضا سوي فرائض يې پرذمه وي نوآيا سُنت اونوافل دهغه دپاره درست دي: سوال: (۱۷۵۴) دچا پرذمه چه ددؤو درو کالو فرض لمونځونه قضا وی نو دهغه دپاره سُنت او نوافل جائز دی اوکه نه؟ که چيری سُنت اونوافل وکړی نوثواب به ورته ورکول کيږی اوکه نه؟

جواب: سُنت اونوافل کول دهغه دپاره درست دی اوثواب به ورته ورکول کيږي ولی چه هيڅ يونيك عمل ديوه عمل کونکی نه ضائع کيږی. (۱) فقط

په سُنتوکی جهري قرآئت بهتردی اوکه سرّي؟ سوال: (۱۷۵۵) نوافل اوسُنت په خاموشي سره کول بهتردی اوکه لږ په زوره، دپاره ددی چه دخيالاتو څخه نجات پيدا سی؟

جواب: دورځی په نفلونو اوسُنتوکی کرار ويل پکاردی جهر دی نه کوی اونه دی لږ په زوره والی کوی. البته دشپی په نفلو کی ورته اختياردی که جهرکوی اوکه پټ يې وايی. په درمختارکی دی: کمتنفل بالنهار فانه يسرّ ويخير المنفرد فی الجهر ان ادّی کمتنفل بالليل منفرداً، الخ درمختار. (۲) فقط

دماپښين اوماښام اوماخستن څخه وروسته نوافل په پابندی سره کول ضروري دي اوکه کله کله بايد ترک کړل سي؟ سوال: (۱۷۵۶) په ماپښين ماښام اوماخستن کی ددؤو رکعتو سُنتو څخه وروسته دوه رکعته نفل کوی، دا نوافل هميشه کول ښه دی اوکه کله کله يې پرېښوول مناسب دی؟

جواب: په نوافلوکی اختيار دی برابره خبره ده که کله يې پريږدی اوکه يې هميشه په نفل ګڼلو سره کوی، ځکه چه په دی کی انديښنه نسته چه دابه څوك فرض وګڼی. او بيا هم بهتر دادی چه کله کله يې پريږدی. (۳)

* * *

= المحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۷۳۳، ط. س. ج۲ ص۱۲). ظفير

(۱) وسنّ مؤكدا اربع قبل الظهر واربع قبل الجمعة واربع بعدها بتسليمة الخ شرعت البعدية لجبر النقصان والقبلية لقطع طمع الشيطان ويستحب اربع قبل العصر وقبل العشاء الخ (درمختار) قوله سنّ مؤكدا ای استنانا مؤكدا الخ ولهٰذا كانت السنة المؤكدة قريبة من الواجب فی لحوق الاثم كما فی البحر ويستوجب تاركها التضليل واللوم كما فی التحرير (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ص۷۳۰، ط. س. ج۲ ص۱۲). ظفير

(۲) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل فی القراءة ج۱ ص۴۹۸، ط. س. ج۲ ص۴۵۳. ظ

(۳) ويستحب اربع قبل العصر وقبل العشآء وبعدها بتسليمة وان شاء ركعتين وكذا بعد الظهر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۷۳۰، ط.س. ج۲ ۱۳) وبه يظهر ان كون ترك المستحب راجعا الی خلاف الاولی ولايلزم عنه ان يكون مكروها (ردالمحتار، باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج۱ ص۶۱۱، ط. س. ج۱ ص۶۵۵). ظفير

فصل رابع

دتراويحو مسائل

دتراويحو ركعتونه: **سوال**: (١٧٥٧) په حواله داخبار البريد مؤرخه ٢٥جون سنه ١٩١٨ مطابق ١٥رمضان المبارك، از كانپور:

(دتراويحو بيان) دماختستن دلمونځ څخه وروسته يعنى دفرضو اوسُنتو څخه وروسته شل ركعته تراويح كول مسنون دى. كم خلق چه اته ٨ يا يوولس ١١سره دوترو وايى، دا غلطه ده. كه چيرى اته ركعته تراويح غلطى وى نو ددى (عبارت) څه معنٰى ده كم چه شيخ ابن الهمام حنفي په فتح القديركى ليكى: فحصل من هٰذا كله أن قيام رمضان سنة احدى عشر ركعة بالوتر فى جماعة فعله عليه السلام ثم تركه لعذر وكونها عشرين سنة الخلفاء الراشدين. افسوس كه چيرى تاسى دجواز فتوٰى نه وركولى نو غلط به موهم نه ورته ويل. ولى چه يوى خبرى ته بغير دتحقيق څخه غلط ويل دانسانيت څخه ليرى دى. اوس فدوى تاسى ته درخواست كوم چه كه چيرى واقعى اته ركعته ثابت نه وى نو سره ددليله يې تحرير وفرماياست او ددى څخه علاوه دشلو ركعتو ثبوت ديوه صحيح حديث څخه مونږته وښياست دپاره ددى چه ددى دثواب څخه مونږ هم محروم پاته نه سو. اوبعضى خلق وايى چه شل ركعته تراويح دحضرت عمر ﷺ څخه ثابتى دى، نو ددې ثبوت دصحيح روايت څخه پيش كړئ.

جواب: قول جمهور حنفيه شل ركعته تراويحوته سُنتِ مؤكده فرمايى، اوهمدا محقَّقه او راجحه خبره ده، لهٰذا په دى باره كى دعلامه ابن همام رحمه الله قول په مقابله دجمهورو حنفيه ؤ كى دمنلو قابل نه (١) دى. او دالْبَرِيد په حوالې سره چه تاسى كمه خبره نقل كړى

(١) وهى عشرون ركعة الخ بعشر تسليمات (درمختار) وهو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقا وغربا وعن مالك ست وثلاثون وذكر فى الفتح ان مقتضى الدليل كون المسنون منها ثمانية والباقى مستحبا، وتمامه فى البحر وذكرت جوابه فيما علقته عليه (ردالمحتار مبحث التراويح ص٦٦٠ ، ط. س. ج٢ ص٤٥) وذكر فى الاختيار ان ابايوسف سأل ابا حنيفة عنها وما فعله عمر فقال التراويح سنة مؤكدة ولم يتخرجه عمر من تلقاء نفسه ولم يكن فيه مبتدعا ولم يامر به الا عن اصل لديه وعهد من رسول الله ﷺ (البحر الرائق باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٦) ماحصل يې دادى چه حضرت عمر ﷺ دصحابه ؤ په اجماع سره شل ركعته تراويح رائج كړى، دې ته سوچ كول پكار دى چه بغير دڅه اصل څخه هغوى داسى حكم څنګه كولى سواى؟ بيا په مصنَّف ابن ابى شيبه، طبرانى اوبيهقى كى داحديث موجود دى، چې راوى يې حضرت عبدالله بن عباس دى، (رسول الله ﷺ يصلي في رمضان عشرين ركعة سوى الوتر) ديوراوى په وجه سره كم چه يقينًا دصحابه ؤ دزمانى څخه وروسته دى په ضعيف ګرځولو سره اودشلو ركعتو څخه انكار كول په هيڅ ډول درست نه دى. دحضرت عائشې ﷺ حديث كم چه درمضان اوغيرِ رمضان دواړو سره متعلق دى په هغه سره استدلال په هيڅ ډول درست نه دى، =

ده چه کم خلق اته یا یؤولس ١١ سره دوترو الخ. ددی مطلب دادی چه کم خلق محض اته رکعته تراویح کوی، اوخلقوته دهمدی حکم کوی اوددې څخه زیاتی بدعت ګڼی اوددی څخه منع کوی، نودا غلطه ده. نوپه دی کی دامام ابن همام رحمه الله تغلیط نسته، بلکه دغیر مقلدو (لامذهبه کسانو) تغلیط مقصود دی، ځوك چه شلو رکعتوته بدعت عُمَری وایی. والعیاذ بالله. قال علیه الصّلٰوة والسّلام: اتبعوا سنتی وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین، فکیف تکون سنة الخلفاء بدعة. فقط

په جامع مسجدکی کی دتراویحو باوجود دبغل خوا ته په بل جومات کی هم تراویح درستی دي: **سوال**: (١٧٥٨) کله چه دښار په جامع مسجد کی دهمیشه راهیسی په جَمع سره تراویح کیږی نوپه یوبل جومات کی کم چه جامع مسجد ته نزدی دی دتراویحو جماعت قائمول څنګه دی؟ آیا دا دویم جومات به دضَرار په حکم کی وی اوکه نه؟

جواب: په دی دویم جومات کی کم چې دجامع مسجد سره نزدی دی، دتراویحو جماعت قائمول دسنت طریقی موافق دی. دتراویحو جماعت په هرجومات کی کیدل ښه خبره ده. دثواب ذریعه ده. او دمسجد ضرار دحکم دی دویم جومات ته فتوٰی ورکونکی جهالت او ناخبرتیا ده دشریعت دحکم (١) څخه. فقط

دکلي خلګو ته ویل چې په خپل جومات کې تراویح کوئ دا څنګه دي؟ **سوال**: (١٧٥٩) داستفتاء جواب راورسیدی، په دي کي ډیر درازوالی سوی دی، او مقدمه په عدالت کي دائره ده. او خلګو له بل لوري څخه شاهدي ورکړي ده چي ما هغه ته ویلي دي چي هغه دي دجامع مسجد دتراویحو په جمعه کي نه شریکیږي، بلکه دا دمحلي جومات دي په دي کي دتراویحو جماعت بالکل کیږي نه؟ قرآن پاك دي واوري؟ اګرکه ما دا الفاظ نه دي ویلي، لیکن کله چي حلفي شهادت سوی دی نو دهغه دتسلیمولو سره سره هم ماته

= ولی چه تراویح صرف دوې دری شپی سوی وی. بیا پردی شلورکعتو والا حدیث سره دصحابه ؤ اجماع ده. اودا منل سوی خبره ده چه داتو رکعتو تراویحو بدعت صرف دسلو کالو څخه غیرمقلدو جاری کړی دی. ددی څخه مخکی اته ٨ رکعته تراویح هیچیري په جَمع سره کول ثابت نه دی. بیا دحضرت عائشې رضي الله عنها په حدیث کی ځلور ځلور رکعته په یوه سلام سره ذکر سوی دی اوغیرِ مقلدین دوه٢ دوه٢ رکعته په یوه سلام سره کوی.
پردی مسئله باندی (دزیات تفصیل دپاره) تاسی دحضرت الاستاذ شیخ الحدیث مولانا حبیب الرحمٰن الاعظمی مدّ ظله رساله (رکعاتِ تراویح، مذیّل) مطالعه کړی کمه چه دمفتاح العلوم مئو ضلع اعظم ګړه څخه نشر سوی ده. دتراویحو پر رکعتونو باندی تردی بهتر کتاب تراوسه پوری په نظر نه دی راغلی . ظفیر

(١) وهل المراد انها سنة کفایة لاهل کل مسجد من البلدة اومسجد واحد منها اومن المحلة ظاهر کلام الشارح الاول واستظهر الثانی ویظهر لی الثالث الخ (ردالمحتارباب الوتر والنوافل مبحث صلوة التراویح ج١ ص٢٢٠ ، ط. س. ج٢ ص٤٥). ظفیر

دیو سوال ضرورت دی چي یوه سړي ته په استحقاق دمحلي دخلګو په داسي ویلو سره دجومات دپاره دضرار حکم کیدل په کار دي؟

جواب: په درمختار کي دي: ومسجد حي افضل من الجامع الخ (١) له دي عبارت څخه ثرګنده سوه چي دمحلي جومات دمحلي خلګو ته ترجامع مسجد غوره دی، او شامي لیکلي دي: لأن له حقا علیه فیؤدیه (٢) یعني دمحلي په خلګو باندي دمحلي دجومات حق دی، هغه ادا کول ښایي. نو که دیوي محلي خلګ دبلي محلي خلګو ته ووایي چي دمحلي په جومات کي دتراویحو جمعه کیږي په هغي کي شریك سئ او قرآن شریف واورئ، نودا خبره بي موقع نه ده بلکه داسي ویل ښه دي او دهمداسي ویلو او کولو په شریعت کي حکم دی. چي دمحلي جومات ابادول په کار دي، او پنځه وخته جمعه او تراویح هلته کول ښایي، او دکلي نورو خلګو ته هم ددي ترغیب ورکول ښایي، نو دمسجد ضرار حکم ورکول ذکر سوي جومات ته، په یاد سوي دلیل سره بالکل غلط دي، او دداسي فتوی ورکوونکي په جهالت او لاعلمي دلالت کوي، داسي کلمه دجومات په هکله یو جاهل هم نه وایي، الله جل جلاله دي هدایت وفرمایي او مسلمانانو ته دي دخیر اصلاح او اتفاق توفیق ورکړي، ان أرید إلا الإصلاح ما استطعت وما توفیقی إلا بالله. فقط

<u>**دتراویحو رکعتونه او ابن همام** رحمه الله</u>: **سوال**: (١٧٢٠) حضرت تاسو په دي فتوی کي لیکلي دي، چي دعلامه ابن الهمام دا قول دجمهورو حنفیانو په مقابله کي دمنلو وړ نه دی، (ډیر ښه) موږ پوښتنه کوو چي دعلامه ابن الهمام ددي قول تردید جمهور حنفیان په کم دلیل کوي، د: اتبعوا سنتي وسنة خلفاء الراشدین، پرحدیث باندي زموږ هم نظر دی، لیکن سوال دادی چي دکم صحیح حدیث یا روایت څخه هم ثابت دي، اوکه هسي زباني خرخ دی، درسول الله ﷺ څخه خو به موږ داتو رکعتونو ثبوت داسي ورکړو چي تاسو ته به هیڅ دانکار ګنجایش نسي پاته، په دي شرط چي دانصاف په نظر سره یي وګوری، واخلی لاس په لاس یو حدیث عاجز نقل کوي، لومړی حدیث په بخاري شریف کي دی: قیام النبی ﷺ باللیل في رمضان وغیره عن ابي سلمة بن عبد الرحمن أنه سأل عائشة کیف کانت صلوة رسول الله ﷺ في رمضان فقالت ما کان رسول الله ﷺ یزید في رمضان ولا في غیره علی إحدی عشرة رکعة یصلي أربعا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم

(١) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ما یفسد الصلوة وما یکره فیها مطلب في احکام المسجد ج١ ص٢١٧، ط.س. ج٢ ص٤٥٩. ظفیر

(٢) رد المحتار باب ما یفسد الصلوة الخ مطلب في احکام المسجد ج١ ص٢٢٧. ظفیر

يصلي اربعا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي ثلاثاً قالت عائشة فقلت يا رسول الله أتنام قبل أن توتر فقال يا عائشة إن عيني تنامان و لاينام قلبی (بخاري كتاب التهجد پاره پنجم، هو! كه دا وواياست چي دغير مقلدينو تغليط ځرنګه وسو، اوس اوس تاسو تحرير فرمايلی دی چي دجمهورو حنفيانو په مقابله كي دابن الهمام قول دمنلو وړ نه دی؟ او بيا ليكئ چي په دي سره تغليط دغير مقلدينو وسو، نه چي دابن الهمام، مولانا په ارشاد خداوندی باندي عمل كوئ چي: كله چي وينا كوئ نو په انصاف سره يې كوئ.

جواب: قال في شرح المنية تنبيه: علم من هذه المسئلة أن التراويح عندنا عشرون ركعة بعشر تسليمات وهو مذهب الجمهور وعند مالك ست وثلاثون ركعة احتجاجا بعمل اهل المدينة وللجمهور ما رواه البيهقي باسناد صحيح عن السائب بن يزيد قال كانوا يقومون على عهد عمر بعشرين ركعة وعلى عهد عثمان وعلي مثله الخ ([1]) ددي ځخه دخلفاء راشدينو طريقه معلومه سوه او دجمهورو حنفيانو مذهب هم معلوم سو، او دبخاري دحديث شريف جواب دادی چي هغه دتهجدو دلمانځه په هكله دی دتراويحو نه دی لكه ځنګه چي لفظ دوإلا في غيره په دي باندي دلالت كوي ځكه چي په غير رمضان كي تراويح نسته، لهذا له دي ځخه به داسي لمونځ مراديږي چي هغه په رمضان او غير رمضان په دواړو كي وي، او هغه دتهجد لمونځ دی. وفي الدرالمختار التراويح سنة مؤكدة لمواظبة خلفاء الراشدين الخ وهی عشرون ركعة قال في رد المحتار قوله وهي عشرون ركعة هو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقا وغربا الخ ([2]) وقبيله وكيف لا وقد ثبت عنه ﷺ عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضوا عليها بالنواجذ كما رواه ابوداود ([3]). فقط

دتراويحو وروسته په لوړ آواز سره ددرود او سلام ثبوت نسته: **سوال**: (١٧٢١) په ځينو علاقوكي دتراويحو له ځلورو ركعتو وروسته ناسته وكړي، دپاځيدلو په وخت كي په كرار اواز سره تسبيح ووايي، ددرود بر خواجۀ عالم ځخه وروسته په لوړ اواز سره صلوة برمحمد ﷺ ناره پورته كړي، ددي اصل په كم كتاب كي شرعا موجود دی اوكه نه؟

جواب: ددي اصل په هيئت كذائيه په شريعت كي هيڅ نسته، فقهاؤ ليكلي دي چي دتراويحو په هره ترويحه كي يعني له ځلورو ركعتونو وروسته اختيار لري كه تسبيح وايي يا قرآن شريف وايي، يا نفل ركعتونه كوي اويا هيڅ نه كوي، او په شامی كي دي،

([1]) غنية المستملی ص ٣٨٨. ط.س. ج٢ ص٤٥. ظفير

([2]) رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ص٦٢٠. ظفير

([3]) رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ ص٦٥٩، ط.س. ج٢ ص٤٢. ظفير

چي قهستاني ليکلي دي چي له هري ترويحي وروسته دي سبحان ذي الملك والملكوت الخ دري ځله وايي احقر وايي چي دسبحان الله والحمد لله ولا إله إلا الله والله اكبر (١) دکلمي ډير فضيلت په صحيح احاديثوکي راغلی دی، ځکه نو دهغي تکرار غوره دی، او همدا معمول او مختار وو دحضرت فقيه او محدث گنگوهي رحمه الله.

تراويح شل رکعته: سوال: (١٧٢٢) په رمضان کي تراويح څو رکعته کول ښايي؟

جواب: شل رکعته تراويح کول په کار دي. (٢) فقط

که يي دمعاوضي نيت وي او په ژبه ونه وايي نو آيا په دې صورت کي هم معامله کول ناجائز دي؟ سوال: (١٧٢٣) په قيام رمضان کي دقرآن کريم دختم په غرض حافظ صاحب ته داخستلو او ورکولو په نيت سره دقرآن کريم اوريدل او اورول او دهغه وروسته اخستل او ورکول څنگه دي؟ نيت ددواړو داخستلو او ورکولو وي. له دي څخه پرته څوك اورول نه کوي که چيري په يوه جوماتکي قرآن کريم وانه ورول سي او يوازي پرتراويحو باندي بسنه وسي نو دغه خلگ به له قيام رمضان څخه محروم نه وي؟

جواب. په ا جرت باندي قرآن کريم لوستل درست نه دي. او په دي کي ثواب نسته، اود: المعروف کالمشروط، له مخي چي دچا نيت داخستلو او ورکولو دی هغه هم داجرت په حکم کي راغلی دی اوناجائز دی (٣) په دي حالت کي يوازي تراويح کول، او داجرتي قرآن کريم نه اوريدل غوره دي او يوازي دتراويحو په کولو سره به هم دقيامِ رمضان فضيلت حاصل سي. فقط

دڅومره عمر هلك تراويح ورکولای سي؟ سوال: (١٧٢٤) دڅومره عمر هلك قرآن کريم په تراويحو کي اورولای سي؟ ديوه هلك عمر تقريبا شپاړس کاله په پوره کيدلو دی، هغه قرآن کريم په تراويحو کي اورولای سي اوکه نه؟ ددغه ړيره اوبريت هيڅ نسته، او داسي هلك چي دپنځلسو کالو وي هغه په اول صف کي دسړيانو سره دريدلای او دبل حافظ څخه قرآن کريم اوريدلای سي اوکه نه؟ او که چيري ددياړلسو څوارلسو کالو وي هغه هم په اول صف کي دريدلای او قرآن کريم اوريدلای سي اوکه نه؟

---

(١) رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ ص٦٢١، ط.س. ج٢ ص٤٧. ظفير

(٢) وهی عشرون رکعة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مبحث التراويح باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٠، ط.س. ج٢ ص٤٥). ظفير

(٣) وان القرآءة بشيء من الدنيا لا تجوز والآخذ والمعطي آثمان لأن ذلك يشبه الإستيجار على القراءة ونفس الاستيجار عليها لا يجوز (الدر المختار باب قضآء الفوائت مطلب في بطلان الوصية ج١ ص٦٨٧، ط.س. ج٢ ص٧٣). ظفير

جواب: كه چيري نوري علامي دبلوغ لكه احتلام وغيره په هغه كي موجودي نه وي نو شرعا دپنځلسو كالو په مهال دبلوغ حكم وركول كيږي (١) نو دكم هلك چي شپاړسم كال شروع سوی دی په هغه پسي تراويح او فرض لمونځ ټول صحيح دي، اگر كه بي ږيري وي هم، او دداسي عمر هلك په اول صف كي هم دريدلاي سي، او دديارلسو څوارلسو كالو هلك امام نه سي جوړيدای، (٢) ليكن په تراويحو كي دښودني لپاره يي په لومړي صف كي دريدل صحيح دي. فقط

په تراويحو كي دقرآن كريم ختم سنت دي: **سوال**: (**١٧٢٥**) حافظ لره په تراويحو كي دقرآن كريم ختم كول واجب دي او كه مستحب دي دوجوب په صورت كي كه چيري يوسړي دلوستلو په وخت كي دريا او نمود څخه دژغورني قوت په ځان كي نه لري نو هغه ته يې اورول جائز دي اوكه نه؟ دنه جواز په صورت كي دقرآن په نه اورولو سره به دهغه په غاړه دقرآن شريف څه حق نه وي پاته؟ كه پاته وي نو دخلاصون لاره يي كمه ده؟

جواب: په تراويحوكي قرآن كريم اوريدل او اورول سنت او مستحب دي، او دريا اوعجب په وجه يي پريښودل نه ښايي او ترخپله وسه داخلاص حاصلولو هڅه پكارده، او لوجه الله دمعاوضې پرته دي واورول سي، دا دلوی اجر او ثواب كاردی اوپه دې كي فضيلت دی (٣) او كه ديوه عذر له امله يوه حافظ قرآن كريم په تراويحو كي ونه لوستی، او همداسي تلاوت كوي نو له مؤاخذې څخه خلاص دی قال الله تعالى: لا يكلف الله نفسا إلا وسعها. فقط

په ترويحه كي مناجات صحيح دي اوكه نه؟ **سوال**: (**١٧٢٦**) مولانا كرامت علی جونپوري په تراويحو كي له هري ترويح څخه وروسته يو مناجات ليكلی دی هغه په معتبر دليل سره ثابت دی اوكه نه؟ چي هغه پريږدي اونور مناجات ووايي نو صحيح كيږي اوكه نه ؟

جواب: په هره ترويحه كي تسبيح او تهليل او درود شريف او استغفار ويل صحيح دي، څه خاص مناجات ويل ضروري نه دي؟ او دسبحـــان الله والحمد لله الخ دكلمي تكرارول

---

(١) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ فإن لم يوجد فيهما شيء فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتى لمقصر اعمار اهل زماننا (الدر المختار كتاب الحجر فصل بلوغ الغلام ج٥ ص١٣٢، ط.س. ج٢ ص١٥٣). ظفير

(٢) لا يصح اقتداء رجل بإمرأة وخنثى وصبى مطلقا ولو في جنازة ونفل على الاصح (درمختار) قال في الهداية وفي التراويح والسنن المطلقة الخ والمختار انه لا يجوز في الصلوات كلها. (ردالمحتار باب الإمامة ج١ ص٥٣٩، ط.س. ج٢ ص٥٧٦). ظفير

(٣) والختم مرة سنة ومرتين فضيلة وثلاثا افضل ولايترك الختم لكسل القوم (درمختار) اى قراءة الختم في صلاة التراويح سنة (ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٢٢، ط.س. ج٢ ص٤٧). ظفير

ډير غوره دي. [1]

په تراويحو كي دقرآن په اوريدلو باندي دقرآن ثواب وركول كيږي اوكه نه؟ سوال: (١٧٢٧) زيد وايي چي په تراويحو كي دوه شيان دي، اول قراءت چي فرض دى دوهم سنتِ مؤكده، كله چي په تراويحو كي قرآن ولوستل سو نو په دواړو شيانو كي صرف ديوه شي ثواب حاصل سو يعني كه چيري دسنت موكده ثواب يي حاصل كړى نو دقراءت له ثواب څخه محروم پاتى سو دتراويحو دلمانځه څخه وروسته دي همغه وخت په چاباندي قرآن ووايي او وادي وري چي ددواړو ثواب ورته حاصل سي، زيد په دې ډول مسائلو باندي دعمل كولو تاكيد كوي آيا دا صحيح دى اوكه نه؟

جواب: دا قول دهغه غلط دى په تراويحو كي دقرآن شريف په لوستلو سره دقرآن شريف ثواب هم لوستونكي او اوريدونكو ته حاصليږي او كم سړى چي داسي مسائل بيانوي او په دې باندي مصر وى هغه دامام جوړيدو لائق نه دى. فقط

آيا شيعه حافظ په جمعه كي په شريكيدلو سره فتح وركولاى سي؟ سوال: (١٧٢٨) كه چيري په تراويحو كي امام غلطياني كوي، او له اوريدونكي څخه هم هيريږي او شيعه حافظ موجود دى، كه چيري هغه نيت وكړي، په جمعه كي شريك سي او فتحه وركړي نو داحنافو په نزد جائز دى اوكه نه؟

جواب: كه چيري شيعه داسي وي چي نه تبرا كونكى دى او نه دحضرت صديق رضى الله عنه دصحبت څخه منكر دى او نه په حضرت عائشي صديقي رضى الله عنها باندي دتور لګولو قائل دى نو په دى صورت كي فتحه وركول جايز دى او دهغه په ښودلو سره دفتح اخيستونكى لمونځ او دهغه دمقتديانو لمونځ صحيح [2] دى، اوكه چيري هغه غالي شيعه وي او ذكر سوي خبري په كي موجودي وي يعني تبرايي وي او داول خليفه دصحبت څخه منكر وي او دحضرت صديقي ﷺ دإفك قائل وي نوكله چي داسي رافضي مرتد اوكافر دى په دي وجه دهغه په ښودلو سره او امام ته په فتح اخيستلو سره به دامام لمونځ او دهغه دمقتديانو لمونځ باطل سي. [3] فقط

---

(1) ويجلس ندبا بين كل اربعة بقدرها وكذا بين الخامسة والوتر ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلوة فرادى (درمختار) قال القهستاني فيقال ثلاث مراة سبحان ذي الملك والملكوت، سبحان ذي العزة والعظمة والقدرة والكبرياء والجبروت سبحان الملك الحي الذي لا يموت سبوح قدوس رب الملائكة والروح لا إله إلا الله نستغفر الله نسئلك الجنة ونعوذ بك من النار (ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٦١، ط.س. ج٢ ص٤٦). ظفير

(2) وفتحه على غير امامه الخ بخلاف فتحه على امامه فانه لايفسد مطلقا لفاتح واخذ بكل حال إلا إذا سمعه الموتم من غير مصلى ففتح به تفسدصلاة الكل (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة ومايكره فيها ص٥٨١ ج١، ط.س. ج١ ص٦٢٢). ظفير =

آيا په تراويحو کي دسورة والضحي څخه وروسته دهرسورت په ختميدلو باندي الله اکبر ويل سنت دي: **سوال**: (١٧٦٩) کله چي کلام الله په تراويحو کي ختم سي ځيني حافظان دوالضحی دسورت څخه وروسته دقرآن تر اخره دهر سورت په ختميدو سره الله اکبر وايي چي غير وي درکوع دتکبير څخه او گمان کوي چي دا سنت دی؟

جواب: فقهاء رحمهم الله داسي اذکار او دعاگاني، دلمانځه څخه په وتلي حالت، يا په نفلو لمونځونو کي چي يواځي ادا کيږي محمول کړي دي، په فرائضو کي او همدارنگه په نوافلوکي چي کله په جمع اداء کيږي داسي کول مکروه گڼي نو دمنع کوونکو قول په دي هکله سم دی او دروا کوونکو قول خطا دی، قال في الدرالمختار بل يستمع وينصت الخ. وإن قرأ الإمام اية ترغيب وترهيب و كذا الإمام لا يشتغل بغير القرآن وما ورد حمل على النفل منفردا الخ (درمختار) قوله حمل على النفل منفردا أفاد أن كلا من الإمام والمقتدي في الفرض والنفل سواء أما الإمام في الفرائض فلما ذكرنا من أنه صلى الله عليه وسلم لم يفعله فيها وكذا الأئمة من بعده إلى يومنا هذا فكان من المحدثات ولأنه تثقيل على القوم فيكره وأما في التطوع فإن كان في التراويح فكذلك الخ شامي ج١ ص٣٢٢. فقط ([1])

په کورکي دننه په تراويحو کي دمحرمو او نامحرمو ښځو اقتداء جواز لري اوکه نه؟ **سوال**: (١٧٧٠) يو سړی فرض لمونځ دروژي په مياشت کي په جومات کي کوي، او تراويح او وتر په کور کي کوي او په تراويحو کي دقرآن کريم ختم کوي ځيني محرمي او نامحرمي ښځي راځي او دهغه حافظ په اقتداء سره لمونځ کوي ايا ددوی اقتداء جائزه ده؟

جواب: دمحرمو ښځو په وجود سره کراهت مرتفع گرځي، کما يظهر من عبارة الدرالمختار ([2]) وفي رد المحتار وأفاد أن المراد بالمحرم ماكان من الرحم ([3]) الخ. فقط

آيا تراويح داسي کيدلای سي چي په لومړي رکعت کي بل سورت او په وروستي کي يوازي

([3]) ځکه چي داسي شيعه کافر دی په دي خاطر هغه فتحه دخارج فتحه سوه په کمي سره چي لمونځ فاسديږي، ويفسدها الخ فتحه علي غير امامه (ايضا) دداسي شيعه گانو دکافر کيدلو صراحت دی، وبهذا ظهر أن الرافضي ان كان ممن يعتقد الألوهية في على او ان جبريل غلط في الوحي او كان ينكر صحبة الصديق او يقذف السيدة الصديقة فهوكافر الخ (ردالمحتار فصل في المحرمات ص٣٩٨ ج٢، ط.س. ج٣ ص٤٢). ظفير

([1]) رد المحتار فصل في القراءة ص٥٠٨ - ٥٠٩ ج١، ط.س. ج١ ص٥٤٢. ظفير

([2]) كما تكره إمامة رجل لهن في بيت ليس معهن رجل غيره ولا محرم منه كاخته او زوجته او أمته أما إذا كان معهن واحد ممن ذكر او امهن في المسجد لايكره (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الإمامة ج١ ص٥٢٩، ط.س. ج١ ص٥٦٢). ظفير

([3]) رد المحتار باب الإمامة ج١ ص٥٢٩، ط.س. ط.س. ج١ ص٥٦٢. ظفير

سورت اخلاص ووايي؟ سوال: (١٧٧١) دتراويحو لمونځ په داسي ډول كول روا دي كه نه؟ چي مثلا په لومړي ركعت كي سورت تكاثر ووايي او په دوهم كي سورت اخلاص يا په لومړي ركعت كي والعصر ووايي او په دوهم كي سورت اخلاص؟

جواب: دتراويحو لمونځ په همدي ډول هم كيږي، ليكن دا لازم ګڼل نه ښايي، او ددي پابندي بايد ونه كړل سي، په ترتيب سره كه چيري په هر ركعت كي قراءت ولوستل سي نو دا غوره ده. (1)

چي په كوركي تراويح په جمع سره كوي او جومات ته نه ځي ددې څه حكم دي؟ سوال: (١٧٧٢) دتراويحولمونځ په كوركي په جمعه سره اداكول اوجومات ته نه تلل څنګه دي؟

جواب: په دي صورت كي دا حكم دى چي په جومات كي دي ادا كوي، وظاهر كلامه هنا أن المسنون كفاية إقامتها بالجماعة في المسجد حتى لو أقاموها جماعة في بيوتهم ولم تقم في المسجد اثم الكل كذا في الشامي ص ٥٢١. (2) ليكن كه چيري څوك په جماعت سره په داسي ډول په كور كي تراويح كوي چي دجومات جمعه نه بنديږي، دا صحيح ده، خو دا خلګ به دجومات له فضيلت څخه محروم وي. (په رد المحتاركي دي: وإن صلى أحد في البيت بالجماعة لم ينالوا فضل جماعة المسجد. ظفير)

چي كمي تراويح ورڅخه تيري وي هغه به څه وخت كوي؟ سوال: (١٧٧٣) يو سړى جومات ته په داسي وخت كي داخل سو چي دجومات فرض سوي وو او په تراويحو كي له دوو، يا څلورو ركعتو وروسته شامل سو، نو اوس به پاتي تراويح څنګه ادا كوي، ايا كله چي امام دڅلورو ركعتو په مينځ كي كيني په هغه مهال يه يي ادا كوي، اوكه كله چي امام شل ركعته پوره كړي، په دي حالت كي به وتر له جمعي سره كوي او كه دتراويحو له راګرځولو وروسته؟

جواب: كه چيري په مينځ كي موقع پيدا سي دامام په ترويح كي دكيناستلو په مهال نو هغه وخت دي وكړي، كه نه وي له امام سره دي وتر دجمعي په وخت كي وكړي، او له هغه وروسته دي تراويح پوره كړي. (3) فقط

---

(1) ثم بعضهم اختاروا قل هو الله احد في كل ركعة وبعضهم اختاروا قراءة سورة الفيل إلى اخر القر ان وهذا أحسن القولين لأنه لايشتبه عليه عدد الركعات ولا يشتغل قلبه بحفظها كذا في التجنيس (عالمگيري كشوري فصل في التراويح ج١ ص١١٧ ط. ماجدية ج١ ص١١٨). ظفير

(2) رد المحتار مبحث في التراويح ج١ ص٦٢٠ ، ط.س. ج٢ ص٤٥. ظفير

(3) وإذا فاتته ترويحة او ترويحتان فلو اشتغل بها يفوته الوتر بالجماعة يشتغل بالوتر ثم يصلي ما فاته من التراويح وبه كان يفتى الشيخ الإمام الأستاد ظهير الدين كذا في الخلاصة. (عالمگيري كشوري باب التراويح ج١ ص١١٩ ط. ماجدية ج١ ص١٢٠). ظفير

په نابالغ پسي تراويح صحيح نه دي: سوال: (١٧٧۴) نابالغ كه چيري په تراويحو كي امام سي، نو بالغانو او نابالغو ته په هغه پسي اقتداءكول جائز دي اوكه نه؟

جواب: په نابالغ پسي په تراويح كولو كي اختلاف دى ليكن اصحه داده چي جائز نه دي (١) في المنية وذكر في بعض الفتاوى أنه لايجوز لأن يؤم البالغين في التراويح وهو المختار. فقط (٢)

دنابالغه امامت په تراويحو كي صحيح نه دي: سوال: (١٧٧۵) عمر دديارلسوكالو په عمر كي دقرآن كريم له حفظولو وروسته دالفاظو په صحت سره مقتديانو ته تراويح وركړي. او فرض او وتر دهغه استاد وكړل، زيد وايي چي دعمر دنابالغ والي په وجه سره دمقتديانو تراويح ناقصي دي نو ايا په دي صورت كي تراويح صحيح دي او كه لكه زيد چي وايي ناقصي دي؟

جواب: صحيح داده چي په نابالغ ديارلس كلن هلك پسي نه فرائض اوواجبات صحيح دي اونه تراويح او نوافل، نو دزيد قول صحيح دى چي دمقتديانو تراريح ونه سوي. فقط (٣)

دتراويحو له لمانځه او له وترو څخه وروسته دعا ثابته ده او كه نه؟ سوال: (١٧٧٦) دتراويحو دلمانځه وروسته دعا غوښتل صحيح دي اوكه نه؟ او په رمضان شريف كي له وترو وروسته دعا غوښتل ثابت دي اوكه نه؟

جواب: دتراويحو له ختميدلو وروسته دعا غوښتل صحيح دي، او مستحب دي، او دسلفو اوخلفو معمول دي، بيا له وترو څخه وروسته دعا كول ضروري نه ده، يو ځل كافي ده، يعني دتراويحو له ختميدلو وروسته كافي ده. فقط

تهجد او تراويح له حضور ﷺ څخه ثابتي دي: سوال: (١٧٧٧) تهجد او تراويح كول له رسول الله ﷺ څخه ثابتي دي اوكه نه؟ كه چيري ثابتي وي نو څو ركعته؟

جواب: دتهجدو په هكله راغلي دي، چي رسول الله ﷺ به په رمضان او غير رمضان كي دوترو سره تر يوولسو ركعتونو ډير تهجد نه كول، يعني ډير عادت يي همدا وو (۴)، او

---

(١) ولا يصح اقتداء رجل بامرأة ولا خنثى ولا صبى مطلقا ولو في جنازة ونفل على الأصح (درمختار) قوله ونفل على الأصح قال في الهداية في التراويح والسنن المطلقة جوزه مشائخ بلخ ولم يجوزه مشائخنا ومنهم من حقق الخلاف في النفل المطلق بين ابي يوسف ومحمد والمختار أنه لايجوز في الصلوات كلها اهـ (ردالمحتار باب الإمامة ج١ ص ۵٣٩ – ۵۴٠ ، ط.س. ج١ ص۵٧٢). ظفير

(٢) غنية المستملي بحث تراويح ص٣٩٠. ظفير

(٣) والمختار أنه لايجوز في الصلوات كلها اهـ (رد المحتار باب الإمامة ج١ ص۵۴١، ط.س. ج١ ص۵٨٨) ظفير

(۴) عن ابي سلمة بن عبدالرحمن أنه أخبره انه سأل عائشة أم المؤمنين كيف كانت صلوة رسول الله ﷺ في رمضان قالت ماكان رسول الله ﷺ يزيد في رمضان ولاغيره على إحدى عشرة ركعة يصلي اربعا فلا تسئل عن حسنهن =

تراويح هغه ﷺ دری شپې کړي دي، بيا له پيغمبر صلی الله عليه وسلم وروسته صحابه كرامو په دي باندي هميشه والى كړى دى، ځکه نو تراويح په جمعه سره سنت سوي ([1]) والتفصيل في المطولات. فقط

دتراويحو په ترويح کي دوعظ رواج صحيح دی اوکه نه؟ سوال: (١٧٧٨) په عام ډول په جوماتونو کي دتراويحو په ترويح کي تسبيح ويل کيږي؟ ليکن په يوه جومات کي ددي په خلاف په هره ترويح کي وعظ كول كيږي، ايا دا دواړه كاره جائز دي؟

جواب: دتراويحو په هرو څلورو ركعتونو کي مشروع او مستحب داده چي تسبيح او تهليل او درود شريف ووايي كه چيري ضروري وعظ چي ضرورت وي ورته كله كله وسي، نو څه بديت نسته پکي ليكن ددي التزام كول چي په هره ترويحه کي دي هرومرو وعظ وسي دا ښه نه دی، كما قال في الدرالمختار، ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلوة فرادى الخ درمختار. فقط ([2])

دتراويحو په هكله يو څو پوښتني: سوال: (١٧٧٩) په رمضان شريف کي له سامع څخه پرته قرآن كريم ويل صحيح دي اوكه نه؟ دپاني پت په كرنال ضلعه کي دارواج دی چي دوه حافظان قرآن كريم وايي په لسو ركعتوکي يو حافظ اوپه لسو کي بل حافظ، داسي كول جائز دي اوكه نه؟ كه چيري په تراويحو کي حافظ په غلطی سره دريم ركعت ته پورته سي، او په دريم ركعت کي له ورياديدلو وروسته يي څلورم ركعت هم ادا كړى، نو دا به څلور ركعته ګڼل کيږي اوكه دوه؟ كه چيري دوه وګڼل سي لكه څنګه چي په اشتهاركي دي نو په اخري دوو ركعتو کي چي كم قرآن مجيد ويلى دی هغه بيا ويل غواړي اوكه نه؟ او كه چيري حافظ قرآن شريف شروع كړى او په څه وجه سره يي يو دوه ورځي ونه لوستی، مثلا لس پاري يي ولوستلي، له هغه څخه وروسته بل حافظ تر پنځلسمي پاري پوري لوستل وكړه، نو اوس چي لومړى حافظ پيل كوي له يوولسمي څخه به يي پيل كوي اوكه دشپاړسمي څخه؟

= وطولهن ثم يصلي اربعا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي ثلاثا الخ (نسائي شريف باب كيف الوتر بثلاث ج١ ص١٩٩). ظفير

([1]) عن ابي ذر قال صمنا مع رسول الله ﷺ فلو يقم بنا شيئا من الشهر حتى بقى سبع فقام بنا حتى ذهب ثلث الليل فلما كانت السادسة لم يقم بنا فلما كانت الخامسة قام بنا حتى ذهب شطر الليل الخ رواه ابوداؤد وغيره (مشكوة باب قيام اليل الخ رواه ابوداؤد وغيره (مشكوة باب قيام الليل) التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين للرجال والنساء إجماعا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٧٥٩، ط.س. ج٢ ص٤٣). ظفير

([2]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ص١ ص٦٦١، ط.س. ج٢ ص٤٦. ظفير

جواب: كه چاته قرآن كريم ښه ياد وي نو له سامع څخه پرته يې هم ويلاى سي كه چيري ورڅخه هيره وسوه يا يې شك راغى نو دسلام له ګرځولو وروسته دي وګوري كه غلطي سوي وي نو راودي ګرځوي ليكن غوره داده چي سامع موجود وي، ترڅوحافظ ته ډاډ او اطمينان وي، او په پاني پت كي چي څنګه رواج دى دلته هم په ځينو جوماتونو كي همداسي كيږي داهم جائز دي (١) او دڅلورو ركعتو په صورت كي چي كم قرآن كريم په دوو وروستنيو كي لوستل سوى دى دهغه دبيا ويلو اړتيا نسته (٢) او كله چي مخكني حافظ لس پاري ولوستلي او بيا بل تر پنځلسو ولوستلي نوكله چي اول راسي هغه ته اختيار دى كه يي له شپاړسمي پيلوي او كه يي له يوولسمي څخه، ليكن دخپل قرآن كريم دپوره كولو لپاره دا بهتر دى چي له يوولسمي څخه يي پيل كړي. فقط

<u>**دتراويحو دپرېښودونكي حكم**</u>: **سوال**: (١٧٨٠) كم خلګ چي تراويح نه كوي دهغوى لپاره څه حكم دى؟

جواب: تراويح داحنافو په نزد سنت مؤكده دي، او جماعت هم په تراويحوكي سنت دى، ددي پرېښودونكى بد كوونكى او ګنهګار دى. (٣) فقط

<u>**په شپه شپه كي قرآن كريم ختمول جائز دي اوكه نه؟**</u> **سوال**: (١٧٨١) په يوه شپه كي دډيرو حافظانو په مټ قرآن كريم ختمول صحيح دي اوكه نه؟

جواب: قرآن كريم دومره ژر ژر لوستل چي حروف يي په پوهه كي رانه سي او له مخارجو څخه ادا نسي، ناجائز دي، نوكه چيري په شبينه كي داسي غلطي كيږي نو هغه هم ناجائزه ده، كما في الدر المختار ويجتنب المنكرات هذرمة القراءة الخ. (٤) فقط

<u>**سورت اخلاص دتراويحو په هر ركعت كي لوستل صحيح دي او كه نه؟**</u> **سوال**: (١٧٨٢) ځيني

---

(١) والأفضل أن يصلي التراويح بامام واحد فإن صلوها بإمامين فالمستحب أن يكون إنصراف كل واحد على كمال الترويحة فإن إنصرف على تسليمة لا يستحب ذلك في الصحيح (عالمگيري كشوري فصل في التراويح ج١ ص١١٥، ط. ماجدية ج١ ص١١٢). ظفير

(٢) وعن ابي بكر الأسكاف أنه سئل عن الرجل قام إلى الثالثة في التراويح ولم يقعد في الثانية فإن تذكر في القيام ينبغي أن يعود ويقعد ويسلم وإن تذكر بعد ما سجد للثالثة فان أضاف إليها ركعة اخرى كانت هذه الأربعة عن تسليمة واحدة (ايضاً ص١١٧) وإذا فسد الشفع وقد قرأ فيه لايعتد بما قرأ فيه ويعيد القراءة ليحصل له الختم في الصلوة الجائزة (ايضا ج١ ص١١٢). ظفير

(٣) ونفس التراويح سنة على الأعيان عندنا الخ والجماعة فيها سنة على الكفاية الخ وإن تخلف واحد من الناس وصلاها في بيته فقد ترك الفضيلة (عالمگيري كشوري ج١ ص١١٥) قوله والجماعة فيها سنة على الكفاية الخ أفاد أن اصل التراويح سنة عين فلو تركها واحد كره (ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٢٢٠، ط.س. ج٢ ص٤٥). ظفير

(٤) الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٢٢٣، ط.س. ج٢ ص٤٥. ظفير

خلګ په تراویحو کي دا (طریقه) غوره کوي، چي په هر رکعت کي له سورة فاتحي سره سورت اخلاص وايي دا ډول کړنه له کراهته خالي ده اوکه نه؟

جواب: شامي ليکلي دي: واختار بعضهم سورة الإخلاص في كل ركعة الخ له دي څخه معلومه سوه چي په دي کي څه ستونزه نسته. (١) فقط

دحافظ دتکولو لپاره دتراویحو په مهال شور او زور جوړول جائز دي اوکه نه؟ سوال: (١٧٨٣) دځينو حافظانو عادت وي چي کم هلك نوی نوی قرآن کريم اوروي نو دهغه داورولو په وخت کي ورسي او دهغه دبيرولو او دهغه څخه دهيرولو په هيله په زوره پښې ټکوي او غاړي تازه کوي او ټوخيږي دداسي حافظانو په هکله څه حکم دی؟

جواب: داسي کول ناجائز دي، په حديث شريف کي دي، چي رسول الله صلی الله عليه وسلم له اغلوطاتو څخه منعه کړي ده، يعني کم کارونه چي مسلمانان په غلطی کي اچوي له هغو څخه ځان ساتل لازم دي. (٢)

قرآن کريم دومره تيز لوستل مناسب نه دي چي په پوهه کي رانه سي: سوال: (١٧٨٤) ځيني حافظان په تراويحو کي دومره ژر ژر قرآن کريم وايي چي ماسوا له يعلمون او له تعلمون څخه بل هيڅ شی په فهم کي نه راځي او ځيني مقتديان هم دتراويحو دژر ختميدو په وجه داسي لوستل خوښوي، ددي دواړو څه حکم دی؟

جواب: په درمختارکي دي: ويجتنب المنكرات هذلفة القراءة وترك تعوذ وتسمية وطمانية الخ (٣) يعني دقرآن کريم په ختم کي دي له منکراتو څخه ځان وژغوري، يعني له ژر ژر لوستلو څخه او داعوذ بالله او بسم الله او اطمينان له پريښودلو څخه، له دي څخه معلومه سوه چي داسي لوستل امر منکر دی، چي دثواب پرځای دګناه سبب ګرځي. فقط

دهيريدلو په وجه په خاموش کيدلوسره فکر کول څنګه دي؟ سوال: (١٧٨٥) [١] ځينو حافظانو ته په لوستلو لوستلو کي هيره ورسي، نو کله دقيام په حال کي چپ سي او په فکر کي سي، اوکله په قاعده کي له تشهد څخه مخکي يا له تشهد څخه وروسته فکر کوي، ددي څه حکم دی؟

دهيرولو په مهال له يوې او بلي خوا ويل جائز دي اوکه نه؟ سوال: (١٧٨٦) [٢] له ځينو حافظانو څخه چي په لوستلو کي هيره وسي، نو پټه خوله کيږي نه ، ليکن کله له يوه

---

(١) ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٦٢، ط.س. ج٢ ص٤٧. ظفير

(٢) عن معاوية رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن الأغلوطات رواه ابوداؤد (مشكوة كتاب العلم ص٣٥). ظفير

(٣) الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٦٣، ط.س. ج٢ ص٤٧. ظفير

سورت څخه اوكله له بل څخه اخوا ديخوا لوستل كوي كه چيري وريـاد سي نو بيا سم لوستل شروع كړي او كه وريـاد نـسي نـو ترڅه وختـه پريـشاني وروسـته ركـوع وكـړي او لمونځ ختم كړي، ليكن كه ورته يادسي اوكه نه سي په دواړو صورتونو كي هغوى سجده سهوه كوي ايا سجده سهوه كول پكار دي اوكه نه؟

جواب: [١-٢] پـه دي دواړو صـورتونو كـي سـجده سـهوه كـول پكـار دي: والحاصـل أنـه إختلف في التفكر الموجب للسهو فقيل ما لزم منه تأخير الواجب اوالركن عن محله بـأن قطع الإشتغال بالركن او الواجب قدر اداء ركن وهو الأصح وقيل مجرد التفكر الـشاغل للقلب وإن لم يقطع الموالات الخ ([١]). فقط

په تراويحو كي په غلطي فتح وركولو سره پريشانه كول: **سوال**: (١٧٨٧) ځيني زاړه حافظان نوي حافظ ته په تراويحو كي غلطه فتحه وركوي ترڅو هغه پرېشانه سي، ددي څه حكم دى؟

جواب: دا هم له هغو اغلطوطاتو څخه ده چي ممانعت يي په حديث شريف كي راغلي دى ([٢]). فقط

چي نيت وتړي او فتح وركړي بيا نيت مات كړي ددې څه حكم دى؟ **سوال**: (١٧٨٨) ځيني حافظان له لمانځه څخه وتلى ناست وي دبل حـافظ لوستل اوري، كله چي لـه هغـه څخـه هير سي نو دى په تلواره په صف كي يا صف ته څيرمه نيت وتړي او فتحه وركړي، بيرته سمدستي نيت مات كړي، او كيني، ځيني لـه خدايه نه ويريـدونكي پـه دي صـورت كـي داسي هم كوي چي له اوداسه پرته يا داوبو له شتوالي سره سره تيمم ووهي، او بيـا نيت وتړي او فتحه وركړي، په دي دواړو صورتونو كي دفتحه وركوونكي او اخستونكي څه حكم دى؟

جواب: كه چيري دنيت له تړلو وروسته نبودنه وكړي نو دقاري په لمانځه كي څه خلل نـه راځي، ليكن دى به په نيت ماتولو گنهگاريږي، او قضا بـه پرلازميږي، او څوك چي لـه اوداسه پرته فتحه وركړي، يـا داوبـو پـه شـته والـي كـي تـيمم ووهي او فتحه وركړي او قاري هغه فتحه واخلي نو دهغه لمونځ فاسد سو، او دمقتديانو دا هم فاسد سو. ([٣]) فقط

دتراويحو په مهال په پروته پروته خبري كول: **سوال**: (١٧٨٩) ځيني مقتـديان داسـي كـوي چي كله حافظ په تراويحوكي دوه دري يا زياتي پاري وايي نو دوى لـه صـف څخـه ليـري

([١]) رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٢ تحت قوله واعلم أنه إذا شغله الخ. ظفير

([٢]) عن معاوية قال أن النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن الأغلوطات رواه ابوداؤد (مشكوة كتاب العلم ص٣٥). ظ

([٣]) وإن فتح على إمامه تفسد (عالمگيري كشوري باب سابع مايفسد الصلوة ج١ ص٩٠). ظفير

دلمانځه بهر پټه خوله ناست وي؟ يا پروت وي، يا پټې پټې خبري اتري كوي، ليكن دخاموشی په صورت كي هم دقرآن كريم اوريدل دهغوی هدف هيڅكله نه وي، نو دوی ته به داوريدو ثواب په لاس ورځي اوكه نه او په شريعت كي ددي فعل څه حكم دی؟

جواب: ښكاره ده چي خبري اتري كول په داسي وخت كي ګناه ده، او ثواب باطلوي او چپه ناسته يا پروته اګر كه داوريدلو په نيت نه وي ليكن غوږ ته يې اواز راځي، نو داوريدلو ثواب به ورته حاصل سي. (١) فقط

چي يو حافظ په دوو جوماتونو كي تراويح وركوي: **سوال**: (١٧٩٠) ځيني حافظان داسي كوي چي په يوه جومات كي تراويح وركړي بيا همغه وخت بل جومات ته ځي او هلته بيا تراويح وركوي ددي څه حكم دی؟

جواب: داسي كول مكروه دي، كه څه هم تراويح كيږي. (٢) (په عالمګيري كي يې ناجائز ليكلي دي او پرهمدي باندي فتوی ده. ظفير)

دقرآن كريم په ختم كي له آلمّ څخه تر مُفْلِحُوْنَ پوري لوستل مستحب دي: **سوال**: (١٧٩١) مولانا عبدالحی صاحب رحمه الله په تراويحو كي تر: هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ پوري لوستل جائز ليكلي دي يعني چي كله قرآن كريم ختم كړي نو په وروستني ركعت كي دي له آلمّ څخه تر مفلحون پوري ووايي او په فتاوی عالمګيري كي يې هم دختم ترتيب همداسي ليكلي دی، په دي هكله صحيح خبره څنګه ده، او له يوه آيت څخه بل آيت ته دانتقال څه حكم دی؟ ځينو خلګو تر: مفلحون پوري لوستلو ته مكروه ويلي دي؟

جواب: مولانا عبدالحی صاحب رحمه الله چي په دي هكله څه ليكلي دي هغه صحيح دي، حنفي فقهاؤ هم دقرآن كريم په ختم كي يوازي همدا صحيح بللي دي، چي دسورت فاتحي دپيل په اياتونو باندي ختم وكړي ځكه چي دا له حديث شريف څخه ثابت دي، له دي پرته دبيلو بيلو اياتونو لوستل يې مكروه ليكلي دي، كما سيجئ عن شرح المنية لأن النبی ﷺ قال خير الناس الحال المرتحل ای الخاتم المفتتح إنتهی شرح منيه كبيري. (٣) فقط

---

(١) يجب الإستماع للقراءة مطلقا (درمختار) ای في الصلوة وخارجها (رد المحتار فصل في القراءة ج١ ص٥٠٩، ط.س. ج١ ص٥٤٦). ظفير

(٢) په عالمګيري كي يې دذكر سوي سوال جواب عدم جواز ليكلي دی، الفاظ يې دادي: إمام يصلي التراويح في مسجدين في كل مسجد على الكمال لايجوز كذا في محيط السرخسي الفتوی على ذلك كذا في المضمرات (عالمګيري مصري ج١ ص١٥٩، ط.س. ج١ ص١١٢، باب ا لتراويح). ظفير

(٣) وګورئ: رد المحتار باب صفة الصلوة فصل في القراءة تحت قوله وأن يقرأ منكوسا إلا إذا ختم الخ ج١ ص٥١٠، ط.س. ج١ ص٥٤٧. ظفير

تيري سوي تراويح له وترو وروسته کولای سي؟ سوال: (١٧٩٢) زيد وايي چي دکم سړي بعضی تراويح پاته وي، هغه له امام سره وتر کولای سي، له وترو وروسته دي بيا پاتي تراويح وکړي، عمر وايي چي مخکي دي تراويح پوره کړي او بيا دي وتر وکړي، تر څو چي تراويح پوره نه سي په وترو کي دي له امام سره نه يوځای کيږي، په درمختار او نوروکي يي دتراويحو وخت بعد العشاء بيان کړی دی، که له وترو څخه مخکي وي او که وروسته، دهدايي شارح دهمدي قول تصديق کړی دی، په شامي کي هم دهمدي قول تصديق دی، دمسئلي تحقيق څنګه دی؟

جواب: په درمختار کي دي: فلو فاته بعضها وقام الإمام إلى الوتر اوتر معه ثم صلى مافاته ([1]) يعني که چيري څه تراويح ورڅخه تيري وي، او امام دوترو لپاره ودريدی نو وتر دي له امام سره وکړي او وروسته دي نوری تراويح پوره کړي، اوپه درمختار کي دي: ووقتها بعد صلاة العشآء الى الفجر قبل الوتر وبعده في الأصح ([2]) ددې حاصل دادي چي دتراويحو وخت دماخستن دلمانځه څخه وروسته تر سهاره پوري دی، له وترو مخکي او وروسته په اصح مذهب کي، نو کله چي ددې مذهب اصح والی معلوم سو نو اوس دتردد هيڅ ځای نسته. فقط

په تراويحو کي مسنون قرآءت: سوال: (١٧٩٣) درمضان په اوله شپه حافظ دقرآن کريم اورولو ته تيار سو يوه مقتدي انکار وکړی چي موږ قرآن کريم نه اورو، امام او مقتديانو هغه ته جواب ورکړی چي ته يي نه اوري موږ يي اورو، نو هغه سړي وويل چي په کوچنيو سورتونو باندي لمونځ ورکوه اعتراض کوونکی سړی تکړه او تندرست دی، په دي صورت کي شرعا څه ارشاد دی؟

جواب: فقهاؤ ليکلي دي چي په دي زمانه کي غوره دومره لوستل دي چي پرمقتديانو بوج نه وي. نو دذکر سوي سړي قول به هم په همدي باندي حمل کيږي چي دمقتديانو له حال سره سم په تراويحو کي سورتونه بايد وويل سي، داسي نه ده چي دقرآن کريم له اوريدلو څخه انکار کوي، بلکه مطلب دادی چي په تراويحو کي پوره قرآن کريم مه ختموه بلکه په سورتونو سره تراويح کوه، نو په دي کي څه قباحت نسته. په درمختار کي دي: وفي فضائل رمضان للزاهدي أفتى أبوالفضل الكرماني والوبري أنه إذا قرأ في التراويح الفاتحة واية أو ايتين لايكره ومن لم يكن عالما بأهل زمانه فهو جاهل الخ. ([3])

([1]) الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٥٩، ط.س. ج٢ ص٤٤. ظ
([2]) ايضا ج١ ص٦٥٩، ط.س. ج٢ ص٤٤. ظفير
([3]) الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٦٢، ط.س. ج٢ ص٤٧. ظ

لس لس رکعته په دوو جوماتونوکي په امامتي سره کول څنګه دي؟ سوال: (۱۷۹۴) په یوه جومات کي خطیب امام تاکل سوی دی، هغه تراویح په داسي طریقه ورکوي چي دماسخوتن فرض بل سړی ورکوي، او دتراویحو په لسو رکعتونوکي پاو باندي یوه پاره حافظ صاحب وایي نوري تراویح په سورت سورت سره په مقتدیانو کي یو کس ورکوي، له دي څخه وروسته دغه حافظ صاحب یوه بل جومات ته ځي، هغه هلته هم همدغه پاو باندي پاره په لسو رکعتو کي په امامتي سره وایي، دا صورت جائز دی؟

جواب: قال في العالمگیریة إمام یصلي التراویح في مسجدین في کل مسجد علی الکمال لایجوز کذا في محیط السرخسي (١) له دي روایت څخه معلومه سوه چي لس لس تراویح په دوو جوماتونوکي ورکول صحیح دي، لیکن دقرآن کریم دختمولو په معاوضه کي څه اخیستل صحیح نه دي، کما ورد: إقرءوا القرآن ولا تأکلوا به. فقط

ښځي دپردي تر شا په سړي پسي اقتدا کولای سي: سوال: (۱۷۹۵) که چیري یو امام فرض لمونځ یا تراویح ورکوي او زنانه دپردي یا دیوال شاته دهغه په اقتداء کي لمونځ کوي، نو دښځو لمونځ جائز دی اوکه نه؟ او دامام په لمانځه کي څه خلل راځي اوکه نه؟

جواب: ددغو مستوراتو لمونځ صحیح دی. (٢) فقط

په ۴ څلورو رکعتو تراویحو کي یې لومړی قعده ونکړه: سوال: (۱۷۹۶) که چیري امام په تراویحو کي دریم رکعت ته پورته سو، او څلور واړه رکعتونه یې پوره کړل، لیکن په دوو رکعتو کي یې قعده ونه کړه، نوپه دي صورت کي به دسجده سهوي په کولوسره دوه رکعته وسي اوکه څلور رکعته؟

جواب: په درمختار او شامي کي دتراویحو په بیان کي دا په ډاګه دي چي په داسي صورت کي دوه رکعته تراویح کیږي: فلو فعلها بتسلیمة فإن قعده لکل شفعة صحت بکراهة وإلا نابت عن شفع واحد به یفتی قوله به یفتی لم أر من صرح بهذا اللفظ هنا وإنما صرح به في النهر عن الزاهدي فیما لو صلی اربعا بتسلیمة وقعدة واحدة الخ شامي ص۴۷۴. (٣) فقط

بسم الله په تراویحوکي لوستل څنګه دي؟ سوال: (۱۷۹۷) دپیښور په علاقه کي دتراویحو

---

(١) عالمگیري کشوري فصل في التراویح ج١ص١١٥، ط. ماجدیة ج١ ص١١٢. ظفیر

(٢) کما تکره امامة الرجل لهن في بیت لیس معهن رجل وغیره لامحرم منه الخ اما إذا کان معهن واحد ممن ذکر أو أمهن في المسجد لایکره. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الإمامة ج١ ص٥٢٩، ط.س. ج١ ص٥٦٦). ظفیر

(٣) رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراویح ج١ ص٢٢٠ – ٢٢١، ط.س. ج٢ ص٤٥. ظفیر

په ختم کي ديوه سورت په شروع کي هم بسم الله الرحمن الرحيم نه وايي او وايي چي دپيغمبر ﷺ او صحابه کرامو څخه جهر ثابت نه دی، او دقرآن جزء کيدل دجهر مستلزم نه دي، حال داچي دهندوستان عالمان يي يو ځل په جهر سره وايي، او دمولانا عبدالحی (رحمه الله) په فتاوی کي هم يو ځل جهر لوستل مسنون ګرځول سوي دي ددي جهر څه وجه ده؟

جواب: جهر دقرآن کريم په يوه ځای کي ددي لپاره دي چي دا دټول قرآن کريم جزء ده، او چي په يوه ځای کي هم جهر ونه سي نو داوريدونکو قرآن اوريدل به پوره نه سي، نو دجهر دليل همدغه دی، که نه وي ظاهره ده چي جزء دقرآن کريم کيدل جهر لره مستلزم نه دي، ليکن کله چي دټول قرآن کريم ختم په تراويحوکي مسنون دی، له دي امله جهر بالتسميه (يعني بسم الله په زوره ويل) هم سنت بلل کيږي. ([1]) فقط

په ترويحه کي تسبيحات پټ ويل مناسب دي: سوال: (۱۷۹۸) دتراويحو له هرو څلورو رکعتو وروسته چي تسبيح ويل کيږي، سبحان ذي الملك والملكوت الخ دا به امام او مقتديان جهرا وايي اوکه سرا، او دامام او مقتديانو په حکم کي څه فرق سته؟

جواب: ذکر سوي تسبيح پټ ويل غوره دي جهر کول خاصکر مفرط کول نه ښايي، امام دي هم په کراره وايي او مقتديان هم كما في الحديث: يا أيها الناس إربعوا على أنفسكم فانكم لاتدعون أصم ولا غائبا الحديث. فقط. ([2])

په تراويحو کي دخوشحالۍ له امله حافظ ته نذرانه ورکول څنګه دي؟ سوال: (۱۷۹۹) يو مولوي صاحب ډير ديندار پرهيزګار حافظ دقرآن دی هغه هر کال په رمضان کي ديوه کلي جومات ته ورځي، او په تراويحو کي قرآن کريم اوروي، له ختم څخه وروسته مقتديان دخپل وس مطابق له جبر او زوروني پرته حافظ صاحب ته څه ورکوي يعني نغدي روپۍ، او حافظ صاحب يي هم په خوښۍ سره قبلوي، او وايي چي زما مقصود دنيا او پيسي ګټل نه دي، زما مقصود خو ثواب او سنت مؤکد ادا کول دي، او دقرآن مجيد يادابنت دی دروپو سته والی او نيستوالی زما په وړاندي برابر دی، او دتفسير عزيزي له عبارت څخه جواز داجرت على العبادات معلوميږي، هغه چي له سوال سره درج دی، په دي صورت کي شرعا څه حکم دی؟

جواب: فقهاؤ دا قاعده ليکلي ده، چي المعروف كالمشروط كذا في الشامي وغيره، نو

([1]) وهی (ای البسملة) آية واحدة من القرآن كله (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۵۸، ط.س. ج۱ ص۴۹۰). ظفير

([2]) مشكوة المصابيح باب ثواب التسبيح الخ فصل اول ص۲۰۱. ظفير

كه چيري دغه حافظ صاحب ته دامعلومه وي چي ده ته به په دي اورولو باندي پيسي وركول كيږي او اخستل وركول معروف وي، نو دغه حافظ صاحب ته دقرآن له ختمولو وروسته څه اخستل صحيح نه دي، او په دي كي لوستونكي او اوريدونكي دواړه دثواب څخه محروم دي (١) او دحضرت شاه عبدالعزيز (رحمه الله) تحرير په هغه حالت باندي محمول دى چي په هغه حالت كي څه اخستل او وركول معروف نه وي تر څو دشاه صاحب دكلام او دفقهاؤ په عباراتو كي تعارض را نه سي. فقط

آيا په تراويحو كي دهر سورت په پيل كي بسم الله جهرا ويل پكار دي؟ سوال: (١٨٠٠) يو مولوي صاحب حافظ قرآن هم دى، او قاري هم دى، هغه په تراويحو كي له فاتحي څخه وروسته په هر سورت باندي بسم الله په زوره وايي، او وايي چي په دي كي نه څه كراهت سته او نه قباحت، دپه زوره لوستلو په ثبوت كي هغه وايي چي كله په تراويحو كي تكميل دقرآن مقصود او سنت مؤكده دى ځكه نو ترڅو چي په تراويحو كي بسم الله په هر سورت كي په زوره ونه لوستل سي نو اختلاف به دمقتديانو په هكله رفع نه سي، او اختلاف هم يوازي دمجتهدينو نه دى، بلكه دقراءت داماماتو هم دى، نو ايا په هر سورت باندي له فاتحي څخه وروسته په زوره بسم الله ويل څنګه دي، او په تسميه كي حنفي قاري ته دخپلو مجتهدينو په اتباع سره كرار ويل پكار دي، اوكه دقراءت داماماتو په اتباع سره په زوره ويل پكار دي؟

جواب: په درمختار كي دي: كما تعوذ سمى الخ سرا الخ قوله سرا الخ قال في الكفاية عن المجتبى والثالث أنه لايجهر بها في الصلوة عندنا خلافا للشافعي وفي خارج الصلوة إختلاف الروايات والمشائخ في التعوذ والتسمية قيل يخفي التعوذ دون التسمية والصحيح أنه ليتخير فيهما ولكن يتبع امامه من القراء وهم يجهرون بهما إلا حمزة فانه يخفيها اهـ شامي (٢) ج١ ص٣٢٩. له دي څخه معلومه سوه چي په لمانځه كي دننه دحنفيه وو په نزد بالإتفاق سرا لوستل پكار دي په دي كي په حنفيانو كي دهيڅ اختلاف نسته ، او اطلاق دصلوة شامل دى فرض لمانځه، نفل او تراويحو ته، او دا هم ددي عبارت څخه څرګنده سوه، چي ديوه امام دقراءت اتباع دلمانځه څخه بهر پكار ده نه په لمانځه كي، او پردي باندي موږ خپل استادان عالمان احناف پيدا كړيدي. فقط

---

(١) وإن القراءة بشيئ من الدنيا لاتجوز وإن الآخذ والمعطي اثمان لأن ذلك يشبه الاستيجار على القراءة ونفس الأستيجار عليها لايجوز فكذا ما أشبه الخ ولا ضرر في جواز الإستيجار على التلاوة (رد المحتار باب قضاء الفوائت مطلب بطلان الوصية ج١ ص٦٨٧، ط.س. ج٢ ص٧٣). ظفير

(٢) رد المحتار باب صفة الصلاة ج١ ص٤٥٧، ط.س. ج١ ص٧٩٠. ظفير

دقرآن په ختم کي نور اياتونه لوستل څنګه دي؟ سوال: (۱۸۰۱) په رمضان شريف کي دقرآن کريم په ختم کي حافظ صاحب په ۱۹ رکعتونو کي قرآن کريم ختم کړی، او په شلم رکعت کي له آلمّ څخه تر مفلحون پوري دلوستلو څخه وروسته په همدغه رکعت کي دا اياتونه ولوستل: إن رحمة الله قريب من المحسنين. د: دعواهم فيها سبحانك اللهم وتحيتهم فيها سلام الخ څخه تر: عمًّا يصفون پوري، او بيايي رکوع وکړه دا جائز دي اوکه بدعت دي؟

جواب: دا خو په ځينو روايتونو کي راغلي دي چي دقرآن کريم له ختمولو وروسته دي له آلمّ څخه شروع کړه سي، او تر مفلحون پوري دي ولوستل سي، او فقهاؤ هم ددي اجازت ورکړی دی، او دا مستحب ده [۱] ددي څخه پرته نور اياتونه په دي وخت کي لوستل منقول نه دي، ځکه يې نو پرېښودل مناسب دي. فقط

دښځو دتراويحو جماعت: **سوال**: (۱۸۰۲) يو څو دقرآن مجيد حافظاني دا غواړي چي په تراويحو کي قرآن مجيد په خپل جماعت سره ختم کړي، دهغوی دا فعل څنګه دی؟

سوال: (۱۸۰۳) داخترونو لمونځ هم څو ښځي په يو ځای کولای سي اوکه نه؟ آيا ښځه دښځو امامه جوړيدای سي؟

جواب: دښځو دا ډول امامت چي ښځه يې امامه سي مکروه دی، که هغه دتراويحو جماعت وي او که له تراويحو پرته بل وي، په ټولو کي دښځي امامت دښځو لپاره مکروه دی. [۲] فقط

ديوی مياشتي او پنځلسو کالو دهلک امامت په تراويحوکي صحيح دی اوکه نه؟ سوال:

(۱۸۰۴) دکم هلك عمر چي درمضان په اول تاريخ څوارلس کاله او يوولس مياشتي کيږي، هغه ته دتراويحو امامت جائز دی اوکه نه؟ او په وترو کي دهغه امامت جائز دی اوکه نه؟

جواب: مسئله داده چي که چيري په هلك کي بله نښه دبلوغ لکه احتلام او انزال ونه موندل سي، نو پوره دپنځلسوکالو په کيدلو سره شرعا هغه بالغ ګڼل کيږي، نوهغه هلك

---

[۱] ويكره الفصل بسورة قصيرة وأن يقرأ منكوسا إلا إذا ختم فيقرأ من البقرة (درمختار) قال في شرح المنية وفي الولوالجيه من يختم القرآن في الصلوة إذا فرغ من المعوذتين في الركعة الأولى يركع ثم يقرأ في الثانية بالفاتحة وشيء من سورة البقرة لأن النبى صلى الله عليه وسلم قال خير الناس الحال المرتحل اى الخاتم المفتتح اهـ (رد المحتار فصل في القراءة ج۱ ص۵۱۰، ط.س. ج۱ ص۵۴۲). ظفير

[۲] ويكره تحريم جماعة النساء ولو في التراويح (درمختار) أفاد أن الكراهة في كل ما تشرع فيه جماعة الرجال فرضا او نفلا (رد المحتار باب الإما مة ج۱ ص۵۲۸، ط.س. ج۱ ص۵۲۵). ظفير

چي عمر يي درمضان په اوله څوارلس كاله او يوولس مياشتي دی، دهغه امامت په تراويحو او وترو كي صحيح نه دی، ځكه چي داحنافو صحيح مذهب همدا دی چي دنابالغه هلك امامت په فرائضو نوافلو او واجباتو كي صحيح نه دی، (١) كذا في الدرالمختار والشامي (البته كه چيري دبلوغ څه بله نښه پيداسي، نو بيا به صحيح وي. ظفير)

په ترويح كي په لوړ اواز سره صلوة ويل څنګه دي؟ **سوال**: (١٨٠٥) دتراويحو په لمانځه كي له هرو څلورو ركعتو وروسته په ناسته يو څو دقيقي درودونه ويل كيږي، دحنفيانو په نزد دا جائز دي اوكه نه؟

جواب: دتراويحو په لمانځه كي له هرو څلورو ركعتو وروسته كښيناستل او تسبيح، تهليل او درود شريف ويل مستحب دي (٢) هر يو دي ځانته تسبيح او تهليل او نور وايي، په ګډه اوپه اواز يوځای كولو سره لوستل ضروري نه دي، بلكه دا ښه هم نه دي. فقط

په تراويحو كي ددوو دوو ركعتو نيت كول په كار دي: **سوال**: (١٨٠٦) په تراويحو كي ددوو دوو ركعتو نيت كول ښايي اوكه دڅلورو څلورو؟

جواب: په تراويحو كي په دوو دوو ركعتو باندي سلام ګرځول غوره دي كما في الدر المختار. (٣) فقط

په تراويحو كي به دتلاوت سجده په ركوع كولو سره ادا سي اوكه نه؟ **سوال**: (١٨٠٧) كه چيري په تراويحوكي دركوع په ختميدلو باندي دتلاوت سجده راسي، نو په ركوع كي به سجده ادا سي اوكه نه؟ اوكم سړی چي تر لمانځه بهر سجده وكړي دهغه سجده به ادا كيږي او كه نه؟

جواب: كه چيري په ركوع كي دسجدي نيت وكړي نو دتلاوت سجده ادا كيږي، (١) او په سجده كي له نيت څخه پرته هم ادا كيږي. (٢) (په تراويحو كي دتلاوت سجده په ركوع كي كول نه ښايي، ظفير). فقط

---

(١) ولايصح اقتداء رجل بامرأة وخنثی وصبي مطلقا ولو في جنازة ونفل علی الأصح (درمختار) والمختار أنه لايجوز في الصلوات كلها (رد المحتار باب الإمامة ج١ ص٥٣٩، ط.س. ج١ ص٥٧٦). ظفير

(٢) ويجلس ندبا بين كل اربعة بقدرها وكذا بين الخامسة والوتر ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلاة فرادی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٦١ ، ط.س. ج٢ ص٤٦). ظفير

(٣) وهی عشرون ركعة بعشر تسليمات فلو فعلها بتسليمة فان قعد بكل شفع صحب بكراهة والا نابت عن شفع واحد به يفتی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٦٠، ط.س. ج٢ ص٤٥). ظفير

بسم الله په زوره لوستل څنګه دي؟ سوال: (١٨٠٨) ایا داسي روایت دابن مسعود ﷺ ستنه چي بسم الله دهر سورت سره نازله سوي ده، احتیاطا دي په تراویحو کي په جهر سره په هرسورت کي ولوستل سي، پرته دبسم الله څخه که په جهر سره وویل سي نوګنهکاربه سي؟

جواب: په ډیرو روایتونو کي دا راغلي دي چي رسول الله ﷺ به قراءت دالْحَمْدُ څخه پیل کوی ددي څخه معلومه سوه چي بسم الله به یې په زوره نه ویله، همدا مذهب دامام ابوحنیفه (رحمه الله) دی، نو ځکه دهر سورت سره په زوره لوستل نه ښایي، یواځي په ټول قرآن کریم کي دي دیوه سورت سره یو ځل په زوره ووایي (٣) والتفصیل في کتب الفقه. فقط

که دتراویحو لمونځ دڅلورو په نیت باندي وکړل سي، نو داولي قعدي او درود څه حکم دی؟

سوال: (١٨٠٩) که چیري په تراویحو کي دڅلورو رکعتو نیت وکړل سي، نو په اوله قعده کي له تشهد څخه وروسته درود شریف او په دریم رکعت کي له فاتحې څخه مخکي ثنا لوستل په کار دي اوکه نه؟

جواب: په کار دي کما في الدرالمختار: وفي البواقي من ذوات الأربع یصلي علی انلبي ﷺ ویستفتح ویتعوذ الخ (٤) تراویح اګر که سنت مؤکده دي، لیکن څلور رکعته په یوه سلام سره کول دا سنت مؤکده نه دي او دماپښین څلور کعته داسي نه دي بلکه هغه په یوه سلام سره کول سنت مؤکده دي، او په تراویحو کي غوره طریقه پردوو دوو رکعتو باندي سلام ګرځول دي؟ په درمختار کي دي: التراویح سنة مؤکدة لمواظبة الخلفاء الراشدین الخ وهي عشرون رکعة بعشر تسلیمات (٥) الخ. فقط

په دیرش کاله عمر لروونکي پسي تراویح کول بلا کراهته صحیح دي؟ سوال: (١٨١٠) دیوه حافظ ږیره او بریت نسته (کوسه دی) او دهغه عمر دیرش کاله دی، په هغه پسي لمونځ تراویح او نورصحیح دي اوکه نه؟

---

(١) وتؤدی برکوع صلاة إذا کان الرکوع علی الفور من قراءة آیة او ایتین وکذا الثلاث علی الظاهر کما في البحر أن لو نواه ای کون الرکوع لسجود التلاوة علی الراجح تؤدی بسجود کذلك ای علی الفور وان لم ینو الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٣٣ ، ط.س. ج٢ ص١١١). ظفیر

(٢) ولو تلاها في الصلاة سجدها فیها لا خارجها کمامر (ایضاً ج١ ص٧٢٢، ط.س. ج٢ ص١١٠). ظفیر

(٣) وکما تعوذ سمي الخ سرا (درمختار) قال في الکفایة عن المجتبی والثالث أنه لایجهر بها في الصلوة عندنا الخ (رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٥٧ ، ط.س. ج١ ص٤٩٠). ظفیر

(٤) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢. ظفیر

(٥) ایضا مبحث التراویح ج١ ص٢٢٠ ، ط.س. ج٢ ص٤٣. ظفیر

جواب: په هغه پسي په لمونځ كولو كي هيڅ كراهت نسته لمونځ له كراهته پرته په هغه پسي صحيح دى. ([1]) فقط

په تراويحوكي داتو ركعاتو حديث غوره دى او كه دشلو ركعتو؟ **سوال**: (١٨١١) دتراويحو په ركعتونو كي ددواړو حديثونو مقابله څه ډول ده، داتو ركعتو حديث چي هغه دامام محمد بن نصر مروزي په كتاب قيام الليل كي دى او شل ركعته دمصنف ابن ابي شيبه عام او مشهور حديث دى؟

جواب: دشلو ركعتونو حديث امت مرحومه معمول به ګرځولى دى لهذا همدغه دعمل كولو لپاره غوره دى، او سنت شل ركعته تراويح دي ([2]). فقط (په څلورو امامانوكي دهيڅا په وړاندي هم له شلو ركعتونو كمي تراويح نسته، شل يا ددي څخه ډير ركعتونه دي، په اتو ركعتو باندي عمل يوائي دپاكستان اوهندوستان دغير مقلدو او لامذهبو دى، او هغه هم يوازي دسلو كالو راهيسي، كه نه وي په ټول امت كي په شلو يا په ډيرو ركعتو باندي عمل جاري پاته سوى دى او اوس هم دى. ظفير)

په دوكانونو كي تراويح كول څنګه دي؟ **سوال**: (١٨١٢) كه دبازار لمونځ كوونكي خلګ يوازي دخپل كاروبار دنقصان دبيري له امله ځانته ځانته دتراويحو جماعت وكړي دهغوى دا عمل څنګه دى؟

جواب: دتراويحو لمونځ په جومات كي كول، او دتراويحو ختم په جومات كم اوريدل سنت دي، له عذره پرته جومات ته نه راتلل او په دوكانو كي تراويح كول سنت پريښودل دي. ([3]) فقط

دچا څخه چي تراويح پاته وي هغه دي لومړي وتر په جمعه وكړي بيا دي تراويح وكړي؟

سوال: (١٨١٣) يو سړى دى چي دهغه څخه ځيني تراويح فوت سوي دي، اوپه ځينو كي

([1]) سئل العلامة الخ عن شيخ بلغ من السن عشرين سنة وتجاوز حد الإنبات ولم ينبت عذاره فهل يخرج بذلك من حد الأمردية الخ فأجاب بالجواز من غير كراهة وناهيك به قدوة (ردالمحتار باب الإمامة ج١ ص**٥٢٥**، ط.س. ج١ ص**٥٦٢**). ظفير

([2]) التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين الخ هى عشرون ركعة بعشر تسليمات الخ (درمختار) وهى عشرون ركعة هو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقا وغربا (رد المحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٢٠، ط.س. ج٢ ص**٤٣**) ددي مسئلي لپاره دي دركعات تراويح په نامه رساله دشيخ حضرت الاستاذ مولانا حبيب الرحمن صاحب الاعظمي وكتل سي چي مفتاح العلوم مئوناته بنجن ضلع اعظم ګړه خپره كړي ده. ظفير

([3]) والجماعة فيها سنة على الكفاية في الأصح فلو تركها أهل مسجد أثموا، لا لو ترك بعضهم وكل ما شرع بجماعة فالمسجد فيه افضل (الدرالمختار) وإن صلى أحد في البيت بالجماعة لم ينالوا فضل جماعة المسجد (رد المحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٢٠، ط.س. ج٢ ص**٤٥**). ظفير

يي په امام پسي اقتداء وكړه، كله چي امام دوترو كولو لپاره ولاړيږي نو ددغه سړي لپاره دمذهب حنفي په رڼا كي څه حكم دی؟ ايا مخكی به په امام پسي وتر كوي او وروسته به فوت سوي تراويح كوي اوكه به لومړی تراويح كوي او بيا به وتر ځانته كوي په دي دواړو صورتونوكي غوره او افضل كم دی؟

جواب: ديوبنتني اصلي جواب دادی چي نوموړی سړی دي لومړی وتر په جمعه سره وكي او بيا دي فوت سوي تراويح راوګرځوي، لكی تحصل له فضيلة جماعة الوتر في رمضان كما رجحه الكمال وعليه عملنا وعمل مشائخنا وقال في رد المحتار في شرح قول الجماعة بأنه صلى الله عليه وسلم كان اوتر بهم ثم بين العذر في تأخره مثل ما صنع في التراويح فالوتر كالتراويح فكما أن الجماعة فيها سنة فكذلك الوتر. بحر وفي شرح المنية والصحيح أن الجماعة فيها افضل [1] الخ. فقط

ايا له تراويحو وروسته او له ختم څخه وروسته دعا كول مكروه دي؟ سوال: (١٨١۴) په فتاوى هنديه كي دي چي په تراويحو كي او دقرآن كريم دختم په مهال دعا كول مكروه دي!

سوال: (١٨١۵) په جمعه سره دقرآن كريم دختميدلو په مهال دعا مكروهه ده، ځكه چي دغه ډول دعا كول دپيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه منقوله نه ده، دا دواړه مسئلي صحيح دي اوكه نه؟

جواب: صحيح داده چي دقرآن كريم له ختم او له تراويحو وروسته هميشه دعا كول مسنون او مستحب دي، او په حديث شريف كي دي چي دا وخت ددعا دقبليدلو دی، ځكه نو دتراويحو اوختم څخه وروسته دعا كول زموږ داكابرو مشائخو معمول دی. [2] فقط

په هره ترويح كي دعا مسنونه ده او كه مستحبه؟ سوال: (١٨١٦) دتراويحو دهر څلورم ركعت څخه وروسته دعا غوښتل جائز دي اوكه مسنون؟

جواب: دتراويحو دهرو څلورو ركعتو وروسته دعا غوښتل، تسبيح، تهليل او درود شريف ويل جائز او مستحب دي چي هر څه پكښي ووايي غوره دي، ديو ځانګړي امر

---

[1] رد المحتار مبحث التراويح قبيل باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٢۴ – ٦٢۵، ط.س. ج٢ ص۴٨. ظفير

[2] عن معاذ بن جبل (رضی الله عنه) قال أخذ بيدي رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال إني لأحبك فقلت أنا أحبك يا رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لا تدع أن تقول في دبر كل صلوة رب أعني على ذكرك الخ (مشكوة ص٨٨) وعن ابي أمامة قال قيل يا رسول الله أى الدعاء أسمع قال جوف الليل الآخر ودبر الصلوات المكتوبات. رواه الترمذي ايضا ص٨٩. ظفير

اړتیا او تخصیص نسته (١) لیکن تسبیح لکه: سبحان ذي الملك والملکوت الخ یا سبحان الله والحمد لله ولا إله إلا الله والله أکبر لوستل ډیر ښه دي، او داکابرو معمول دي. (٢) فقط

دا خبره ناسمه ده چې څوک دشرعي عذر له امله روژه ونه نیسي نو تراویح دې هم نه کوي:

سوال: (١٨١٧) زید وایي چې کم خلګ دشرعي عذر له امله روژه نه نیسي هغوی دې دتراویحو لمونځ هرو مرو کوي، هغوی ته به ضرور ثواب ورکول کیږي، بکر وایي چې کم معذور یا نامعذور سړی چې روژه نه نیسي هغه دې تراویح هم نه کوي، بلکې څوك چې روژه نه نیسي دهغه تراویح کول نور عذاب دی؟ په دې دواړوکې دچا خبره سمه ده؟

جواب: دزید خبره سمه ده، بکر غلط وایي. (٣) فقط

نبي ﷺ څو رکعته تراویح کړیدي؟ سوال: (١٨١٨) پیغمبر ﷺ په آخره کې څو رکعته تراویح کړي دي؟

جواب: په شلو تراویحو باندې اجماع ده، او داحادیثو څخه ثابت دي، نو شل کعته تراویح کول ښایي (٤) فقط (ګران پیغمبر ﷺ هم شل رکعته تراویح کړي دي، په مصنف ابن ابي شیبه، طبراني او بیهقي کې دا حدیث موجود دی: کان رسول الله ﷺ یصلي في رمضان عشرین رکعة سوی الوتر. ددې راوي عبد الله بن عباس (رضی الله عنه) دی. ظفیر)

ایا په ترویح کې نصیحت کول صحیح دي؟ سوال: (١٨١٩) آیا دتراویحو په ترویح کې دتسبیحاتو په ځای دحضرت لقمان نصیحتونه اورول، داستاذ اداب بیانول، او ددوزخ اوجنت یادونه کول صحیح دي؟

جواب: دا هم صحیح دي، لیکن غوره داده چې دغه وخت دې په تسبیح او داسې نورو باندې ونیسي. (٥) فقط

---

(١) ویستحب الجلوس بین الترویحتین قدر ترویحة الخ ثم هم مخیرون في حالة الجلوس إن شاءوا سبحوا وإن شاءوا قعدوا ساکتین. عالمګیري کشوري ج١ ص١١۴، ط. ماجدیة ج١ ص١١٢). ظفیر

(٢) یجلس ندبا بین کل اربعة بقدرها وکذا بین الخامسة والوتر ویخیرون بین تسبیح وقراءة وسکوت وصلوة فرادی (درمختار) قوله بین تسبیح قال القهستاني فیقال ثلاث مرات سبحان ذي الملك والملکوت الخ (رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراویح ج١ ص٦٦١، ط.س. ج٢ ص۴٦). ظفیر

(٣) دتراویحو لپاره روژه شرط نه ده: التراویح سنة مؤکدة لمواظبة الخلفاء الراشدین للرجال والنساء اجماعا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتارباب الوتر والنوافل مبحث في التراویح ج١ ص٦۵٩،ط.س. ج٢ ص۴٣). ظ

(٤) وهی عشرون رکعة حکمته مساواة المکمل بعشر تسلیمات هو قول الجمهور وعلیه عمل الناس شرقا وغربا (ردالمحتار مبحث التراویح ج١ ص٦٦٠، ط.س. ج٢ ص۴۵). ظفیر　=

په تراويحو كي دختم په شپه له آلمّ څخه تر مفلحون پوري دلوستلو وروسته نور آياتونه ويل ثابت نه دي: **سوال**: (۱۸۲۰) ډير حافظان دختم په شپه دتراويحو په لمانځه كي له هُمُ المفلحون څخه وروسته مختلف اياتونه لكه (إنا لله وإنا إليه راجعون، وإن رحمة الله قريب من المحسنين) او نور وايي، ددي شرعا ثبوت سته اوكه نه؟

جواب: فقهاؤ يوازي دومره ليكلي دي: إلا إذا ختم فيقرء من البقرة الخ (درمختار) وفي الشامي قال في شرح المنير وفي الولوالجية من يختم القرآن في الصلوة إذا فرغ من المعوذتين في الركعة الأولى يركع ثم يقرء في الثانية بالفاتحة وبشيء من سورة البقرة لأن النبى صلى الله عليه وسلم قال خير الناس الحال المرتحل أى الخاتم المفتتح (١) الخ نو ددي څخه پرته نور څه ثابت نه دي، لهذا په دي باندي اصرار كول بدعت او مكروه دي. فقط

ايا دتراويحو لپاره امام ټاكل صحيح نه دي؟ **سوال**: (۱۸۲۱) لكه څنګه چي دپنځه وخته لمونځونو لپاره امام ټاكل كيږي همدغه ډول دروژي په مياشت كي دتراويحو لپاره امام ټاكل جائز دي اوكه نه؟

جواب: كله چي مسئله داسي ده چي: الأمور بمقاصدها، او داهم دي المعروف كالمشروط، نو كه يوحافظ دختم كولو لپاره امام جوړ كړل سي، نو ښكاره ده چي ددي څخه مقصود امامت نه دى، بلكه دقرآن كريم ختم دى لهذا په دي باندي چي كم اجرت وركول كيږي او اخستل كيږي، هغه دقرآن كريم دختم په وجه سره دي، يوائي دامامت په خاطر نه دي نو دقاعدي سره سم چي: لايجوز أخذ الأجرة على قراءة القرآن، په تراويحو كي دقرآن كريم په ختم باندي اجرت اخستل او وركول جائز نه دي، قال في ردالمحتار وقال العينى في شرح الهداية ويمنع القاري للدنيا والآخذ والمعطي آثمان فالحاصل أن ما شاع في زماننا من قراءة الأجزاء بالأجرة لا يجوز الخ شامي (٢) ص۳۵ ج۵. فقط (له اجرت څخه پرته دتراويحو لپاره امام ټاكل صحيح او غوره دي البته په اجرت باندي جائز نه دى. ظفير)

كه چيري حنفيان په غير مقلد پسي تراويح وكړي نو پاتي ركعتونه په كله پوره كوي: **سوال**: (۱۸۲۲) كه امام غير مقلد وي او تراويح دشلوركعتونو پرځاى اته ركعته وكړي نو

---

(٥) ويجلس ندبا بين كل اربعة بقدرها وكذا بين الخامسة والوتر ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلوة فرادى (الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٦١، ط.س. ج٢ ص۴٢). ظفير

(١) رد المحتار فصل في القراءة قبيل باب الإمامة ج١ ص٥١٠، ط.س. ج١ ص٥٤٧. ظفير

(٢) ردالمحتاركتاب الإجارة مطلب في الإجارة في الطاعة ج٥ ص٤٧، ط.س. ج٢ ص٥٦. ظفير

حنفیانو ته پاتي تراویح څنګه پوره کول ښايي، ایا دامام سوه وتر وکړي وروسته تراویح وکړي او که اول تراویح پوره کړي؟

جواب: پاتي تراویح له وترو وروسته کول کیږي، او داسي هم کولای سي چي وتر دامام سره ونه کړي تراویح پوره کړي او بیا وروسته وتر وکړي. (١) فقط

په تراویحو کي دیوه ختم څخه ډیر لوستل څنګه دي؟ سوال: (١٨٢٣) په تراویحو کي چي دقرآن کریم حافظان دوه دري ختمونه کوي دا څنګه دي؟ سنت مؤکد خو یواځي یو ختم دی دنورو ختمونو به څه حکم وي بل دا چي که چیري یو حافظ په ډیرو جوماتونو کي ختم کوي نو څه حکم به یي وي او دبل جومات خلګو ته به دختم ثواب رسیږي اوکه نه؟

جواب: په درمختارکي دي: والختم مرة سنة ومرتين فضيلة (٢) وثلاثا افضل الخ او په بل جومات کي هم دویم ختم صحیح دی، او ددویم جومات والاوو ته به ددویم ختم ثواب رسیږي. فقط

که په دویم رکعت کي ودریدی او بیا ورته یاد سوه نو څه وکړي؟ سوال: (١٨٢٤) که چیري دتراویحو په دویم رکعت کي دکښیناستلو پرځای ولاړ سو بیا ور په زړه سوه نو څه وکړي؟

جواب: که چیري ددریم رکعت دسجدي څخه مخکي ورته یاد سي نو کښېنستل پکار دي او سجده سهوه دي وکړي، وأما النفل فيعود ما لم يقيده بالسجدة (٣). فقط

دتلاوت سجده دلمانځه دسجدي سره ادا کیږي اوکه نه؟ سوال: (١٨٢٥) که چیري امام په تراویحو کي دتلاوت سجده دلمانځه دسجدي سره ادا کړه، یعني دری سجدي یي وکړي نو لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په لمانځه کي چي کله دسجدي ایت تلاوت کړي، نو همغه وخت دتلاوت سجده کول په کار دي، اوکه یي وځنډوله اودلمانځه دسجدو سره یې وکړه نو سجده سهوه وربانديي لازمه ده، او ترسجده سهوي وروسته دلمانځه دراګرځولو اړتیا نسته، ولذا كان المختار وجوب سجود السهو لوتذكرها بعدمحلها الخ شامي (٤) باب سجود التلاوة الخ فقط (قصدا دتلاوت سجده ځنډول صحیح نه دي، دسجدي له ایت څخه وروسته

---

(١) والأصح أن وقتها بعد العشاء إلى آخر الليل قبل الوتر وبعده لأنها نوافل سنت بعد العشاء (هدايه باب النوافل فصل في قيام رمضان ج١ ص١٣٤). ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مبحث في التراويح ج١ ص٦٦٢، ط.س. ج٢ ص٤٢. ظفير

(٣) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٢، ط.س. ج٢ ص٨٣. ظفير

(٤) ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢٢، ط.س. ج٢ ص١١٠. ظفير

سمدستي يا كه بيخي ډير وي نو تر دريو اياتو وروسته دتلاوت سجده كول ضروري دي، كه نه وي گنهگار به سي، فعلى الفور لصيرورتها جزءا منها ويأثم بتأخرها (درمختار) فوجب ادائها مضيقا كما في البدائع ثم تفسير الفور عدم طول المدة بين التلاوة والسجدة بقراءة أكثر من آيتين او ثلاث حليه. الدرالمختار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢٢. ظفير)

ايا تراويح اوږدې نه ښايي؟ سوال: (١٨٢٢) يو سړى دتراويحو په جمعه كي دا اعتراض كوي، چي خلگ ټوله ورځ ستړي ستومانه وي ځكه نو امام ته دومره اوږده ركعتونه كول نه ښايي، نو امام ته څه كول ښايي؟

جواب: امام ته مختصر قراءت كول ښايي، البته يو ځل دقرآن كريم ختم په تراويحو كي كول سنت دي، روزانه دي يوه يوه پاره ويل كيږيددي څخه كمه دي نه وي. فقط [1]

دتراويحو له څلورو ركعتو وروسته به څه كوي؟ سوال: (١٨٢٧) په تراويحوكي چي له څلورو ركعتو وروسته كمه ناسته كوي په دي ناسته كي تسبيح ويل ښايي او كه پټه خوله كښيناستل، او په هره ناسته كي دتسبيحاتو وروسته دعا غوښتل هم ضروري دي اوكه نه؟ په ځينو ځايونو كي دا رواج دى چي په هره ناسته كي دعا هرو مرو غواړي، او نه غوښتونكى ملامت بولي، ددي حكم څه دى؟

جواب: كم تسبيحات چي مأثور دي هغه دي وايي، پټه خوله دي نه اوسي، او په هره ترويحه كي دعا غوښتل ضروري نه دي، [2] او كله چي دا ضروري وګڼل سي او پرنه كوونكي باندي يې ملامتيا ويل كيږي نو بيا يې پرېښودل لازم دي. *كما صرح به الفقهاء*. [3]

دتراويحو په لومړي ركعت كي په كښېنستو سو خو كله چي يې اشاره وركړه پورته سو ددې څه حكم دى؟ سوال: (١٨٢٨\١) امام دتراويحو په لومړي ركعت كي دولاړېدو پرځاى

([1]) والختم مرة سنة ومرتين فضيلة وثلاثا أفضل ولايترك الختم لكسل القوم لكن في الإختيار الأفضل زماننا قدر ما لا ثقل عليهم وأقره المصنف وغيره (الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٢٢، ط.س. ج٢ ص٤٢). ظفير

([2]) يجلس ندبا بين كل اربعة وكذا بين الخامسة والوتر، ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلوة فرادى، (درمختار) قوله بين تسبيح قال القهستاني فيقال ثلاث مرات: سبحان ذي الملك والملكوت سبحان ذي العزة والعظمة والقدرة والكبرياء والجبروت، سبحان الملك الحى الذي لا يموت سبوح قدوس رب الملائكة والروح، لا إله الا الله نستغفر الله نسألك الجنة ونعوذ بك من النار كما في منهج العباد اهـ (رد المحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٢١ ، ط.س. ج٢ ص٤٢). ظفير

([3]) قال الطيبي من أصر على أمر مندوب وجعله عزما ولم يعمل بالرخصة فقد أصاب منه الشيطان من الإضلال (مرقاة المفاتيح ج٢ ص١٤). ظفير

دناستي نيت درلودی، چي دشا له لوري ورته اشاره ورکړل سوه نو ودريدی، ددوو رکعتو له پوره کيدلو سره يي سلام وګرځوی او سجده سهوه يي ونه کړه، دا لمونځ وسو اوکه نه؟ که چيري نه وي سوی نو له معلوميدلو وروسته دغه لمونځ په جمعه سره ادا کړي اوکه يوازي؟

آياسجده سهوه به کوي؟ سوال: (١٨٢٩\٢) ايا په داسي صورة کي سجده سهوه لازمه ده؟

چي لږ څه کښېنستی او بيا ولاړ سو نو سجده سهوه لازمه ده؟ سوال: (١٨٣٠\٣) امام دناستي په اراده الله اکبر ووايه مقتدي چي په کښېنستو وليدی نو په لوړ اواز يې الله اکبر ووايه امام سمدستي ددوهم رکعت لپاره پورته سو په دي وقفه کي يي دالتحيات کم لفظ هم له خولي څخه نه وو وتلی ايا په دي وقفه سجده سهوه لازميږي؟

په اول او دريم رکعت کي په څومره ناسته سره سجده سهوه لازميږي؟ سوال: (٩٨٣١\٤) که چيري په لومړي او دريم رکعت کي سهوا کښېنستی او بيا ودريدی نو په څومره وقفې سره به سجده سهوه لازميږي؟

داستراحت دناستي په وجه سجده نه لازميږي: **سوال**: (١٨٣٢\٥) داستراحت په ناستي سره سجده سهوه لازميږي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي لمونځ وسو او درا ګرځولو اړتيا نه وه، او سجده سهوه هم لازمه نسوه، ځکه چي له يوه رکعته وروسته که چيري له لږ غوندي ناستي وروسته ودريږي نو دا هم فقهاؤ جائز ليکلي دي، دغه امام خولا پوره ناست هم نه وو چي ودريدی، نو په دي صورت کي نه سجده سهوه لازمه ده، او نه دلمانځه دراګرځولو اړتيا سته، په شامي کي دی: هذا إذا كانت القعدة طويلة أما الجلسة الخفيفة التی إستحبها الشافعي فتركها غير واجب عندنا بل هو الأفضل الخ.

[١] لمونځ يي وسو. (١)

[٢] نه لازميږي. (٢)

[٣] ددومره وقفي سره سجده سهوه نه لازميږي. (٣)

[۴] په اوږدي ناستي سره سجده سهوه لازميږي لکه دالتحيات په اندازه لوستلو سره مثلا يادي ته څيرمه، او په لږ کښېنستلو سره سجده نه لازميږي. (۴)

---

(١) ردالمحتار باب صفة الصلوة قبيل مطلب مهم في تحقيق متابعة الإمام ج١ ص۴٣٨، ط.س. ج١ ص۴٢٩. ظ

(٢) ايضا. ط.س. ج١ ص۴٢٩. ظفير

(٣) ايضا. ط.س. ج١ ص۴٢٩. ظفير

(۴) وكذا القعدة الأخيرة في آخر الركعة الأولى والثالثة فيجب تركها ويلزم من فعلها ايضا تأخير القيام إلى =

[۵] په دي سره سجده سهوه نه لازميږي. (۱)

په تراويحو کي له ځينو اياتونو وروسته ځيني کلمات ويل: **سوال**: (۱۸۳۳) په تراويحو کي به حافظ صاحب دځينو اياتونو په ختميدلو سره په لمانځه کي ځيني عربي غير قرآني الفاظ ويل، دساري په توګه دسورت مرسلات داخري ايت: فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ، څخه وروسته به يي، آمنّا بالله ويل، په دې سره لمونځ فاسديږي اوکه نه؟

جواب: حنفيان (عالمان) په لمانځه کي ددا راز دعاګانو څخه منع فرمايي، ليکن که چيري په نوافلو کي يي داسي وکړل نو لمونځ نه فاسديږي. (۲) او تراويح هم نه فاسديږي. فقط

يو سړی په تراويحو کي دهرسورت په پيل کي بسم الله په جهر سره وايي ددې څه حکم دی؟

سوال: (۱۸۳۴) زيد دتراويحو په لمانځه کي دهر سورت په پيل کي بسم الله زوره وايي، ددي شرعي حکم څه دی؟

جواب: دحنفيانو په وړاندي په لمانځه کي بسم الله په زوره ويل نسته، پټ ويل سنت دي که تراويح وي او که بل لمونځ البته دلمانځه څخه بهر دي په جهر او اخفاء کي دقراءو په مينځ کي دخپل امام پيروي کوي، په شامي کي دي: والثالث أنه لا يجهر بها في الصلاة عندنا خلافا للشافعي وفي خارج الصلاة اختلاف الروايات والمشايخ في التعوذ والتسمية قيل يخفي التعوذ دون التسمية والصحيح أنه يتخير فيهما ولكن يتبع إمامه من القراء وهم يجهرون بهما إلا حمزة فإنه يخفيهما الخ (۳) شامي، اوکه څوك په نوافلو کي په قراءو کي دخپل امام په اتباع جهر کوي نو په هغه باندي طعن کول (بد ويل) نه ښايي.

په هره ترويح کي دلاسونو په پورته کولو سره دعا کول صحيح دي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۸۳۵) دتراويحو په هره ترويح کي له تسبيح او تهليل څخه وروسته دامام او مقتديانو په لاس پورته کولوسره دعا کول جائزدي اوکه نه؟ اوکه دتراويحوڅخه وروسته دعاغوښتل پکار

= الثانية او الرابعة عن محله وهذا إذا كانت القعدة طويلة أما الجلسة الخفيفة التى إستحبها الشافعي رحمه الله فتركها غير واجب عندنا بل هو الأفضل كما سيأتى (رد المحتار باب صفة الصلوة قبيل مطلب في تحقيق متابعة الإمام ج۱ ص۴۳۸، ط.س. ج۱ ص۴۲۹). ظفير

(۱) ايضا. ظفير

(۲) والمؤتم لا يقرأ مطلقا الخ بل يستمع إذا جهر وينصت إذا أسر الخ وإن قرأ الإمام آية ترغب وترهب وكذا الإمام لا يشتغل بغير قرآن وما ورد حمل على النفل منفردا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل في القراءة ج۱ ص۵۰۹، ط.س. ج۱ ص۵۴۴). ظفير

(۳) رد المحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۵۷، ط.س. ج۱ ص۴۹۰. ظفير

دي؟

جواب: دتراويحو په هره ترويحه کي تسبيح، تهليل او نوري مأثوري دعاګاني منقولي دي (١) او په لاس پورته کولو سره دعا کول يواځي دټولو تراويحو دختميدو وروسته معمول به دي، نو همداسي کول ښايي، کما ورد: ما رآه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن.

دترويح څخه وروسته ددعا څخه منع والي وکړل سي اوکه نه؟ سوال: (١٨٣٦) کم حافظ چي هميشه عادتًا په هره ترويح کي په لاس پورته کولو سره دعا کوي دهغه ممانعت بالجهر کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: ظاهره داده چي هغه دي په تشدد سره نه منع کيږي.

آيا دعا غوښتل منع دي؟ سوال: (١٨٣٧) که کم حافظ په ترويح کي په دي خيال سره دعا غواړي چي ددي ثبوت نسته هغه ته دمقتديانو سپارښت کول چي دعا حتما غواړه په دي کي هيڅ بديت نسته دی، که حافظ دمقتديانو دوينا مخالفت وکړي دا دجماعت دتفرق او دعوامو دخفګان سبب ګرځي نو په داسي صورت کي دي حافظ ته څه کول په کار دي؟

جواب: نوموړي حافظ ته په دي صورت کي دمقتديانو دوينا منل لازمي نه دي، او نه دمقتديانو لپاره خپل امام ته داسي حکم ورکول پکار دي؟ ځکه چي امام متبوع دی، (يعني پيروي يي کيږی) تابع نه دی (يعني چي دخلکو پيروي وکړي) کما ورد في الحديث: إنما جعل الإمام ليؤتم به (٢) الحديث. فقط

تراويح درسول الله ﷺ سنت دي او که دخلفاء راشدينو؟ سوال: (١٨٣٨) دتراويحو لمونځ درسول الله ﷺ سنت دی اوکه دخلفاء راشدينو سنت دی؟

جواب: دتراويحو لمونځ درسول الله ﷺ سنت هم دی او دخلفاء راشدينو (٣) سنت هم دی.

که په تراويحو کي سجده سهوه لازمـــه سي نو کولای يي سي او که نه؟ سوال: (١٨٣٩) که

---

(١) ويجلس بين كل اربعة وكذا بين الخامسة والوتر، ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلوة فرادى (درمختار) قوله بين تسبيح قال الله القهستاني فيقال ثلاث مرات سبحان ذي الملك والملكوت الخ (رد المحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٢١، ط.س. ج٢ ص٤٦). ظفير

(٢) مشكوة باب ما على المأموم من المتابعة فصل اول ص١٠١. ظفير

(٣) التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين (درمختار) أى اكثرهم لأن المواظبة وقعت في إثناء خلافة عمر رضى الله عنه ووافقه على ذلك عامة الصحابة ومن بعدهم إلى يومنا هذا بلا نكير وكيف لا وقد ثبت عنه صلى الله عليه وسلم عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضوا عليها بالنواجذ كما رواه ابوداؤد بحر (رد المحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٥٩، ط.س. ج٢ ص٤٣). ظفير

چيري په تراويحو كي داسي سهوه وسي چي په هغه سره سجده سهوه لازميږي، نو سجده سهوه كولای سي اوكه نه؟

جواب: دواجب په پريښودلو سره لكه څنگه چي په نورو لمونځونوكي سجده سهوه واجبيږي په تراويحو كي هم لازميږي. (١) فقط

دا ويل غلط دي چي په تراويحو كي سجده سهوه نسته: **سوال**: (١٨٤٠) ځيني خلگ وايي چي په تراويحوكي سجده سهوه نسته ايا دا صحيح ده؟

جواب: دا خبره صحيح نه ده. فقط

آيا دتراويحو لمونځ په يوه سلام سره جائز دي؟ **سوال**: (١٨٤١) په رمضان كي دتراويحو لمونځ په يوه سلام سره جائز دی؟

جواب: تراويح كه چيري په يوه سلام سره په داسي ډول وكړل سي چي له هري شفعي وروسته يي كښينستل هم نه وي كړي، نو بيا به دغه ټول ركعتونه ديوي شفعي قائم مقام وي، او كه يي په هره شفعه باندي ناسته كړي وي نو اگركه په دغه طريقه تراويح ادا كيږي خو دا كار به له كراهت څخه خالي نه وي سنت طريقه همدا ده چي شل ركعته په لسو سلامونو سره ادا كوي. په درمختاركي دي: وهی عشرون ركعة بعشر تسليمات فلو فعلها بتسليمة ان قعد لكل شفع صحت بكراهة وإلا نابت عن شفع به يفتی الخ (٢) درمختار مع الشامي ج١ ص٤٧٤. وفي البحر لا يخفى ما فيه لمخالفة المتوارث مع تصريحهم بكراهة الزيادة على ثمان في مطلق التطوع ليلا فلأن يكره هنا أولى الخ بحرالرائق ج١ ص٧٢. فقط

له شرعي عذر پرته تراويح پريښودل څنگه دي؟ **سوال**: (١٨٤٢) له عذره پرته تراويح قصدا پرېښودل او دا ويل چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم په خپله پرې ايښي دي ځكه يي نو موږ هم نه كوو دا خبره جائزه ده او كه نه؟

جواب: تراويح سنت مؤكده دي له عذره پرته پرې ښوونكی يي عاصي او گنهگار دی دخلفاء راشدينو، ټولو صحابه كرامو او سلفو صالحينو څخه پردي باندي مواظبت ثابت دی، نبي كريم صلى الله عليه وسلم خو په خپله فرمايلي دي چي زما خيال دی چي تراويح فرض نه سي، همدا يوه خبره ده چي دهغې له وجهي هغوی وربانديهميشه والی نه دی كړی، په حقيقت كي دهغوی هميشه والی نه كول په خپله دتراويحو داهتمام دليل دی،

(١) والسهو في صلوة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٥، ط.س. ج٢ ص٩٢). ظفير

(٢) رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ ص٦٦٠. ظفير

دیو سړی دا عذر ویل چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم پرې اینبي دي زه یي هم پرېږدم قطعا دمنلو وړنه دی، او په ناخبري باندي بنا دی. فقط (١)

ددوو تراویحو نیت یي وتړی لیکن په دوهم رکعت کي نه کښینستی نو څه حکم دی؟ سوال:

(١٨٤٣) یوه سړي ددوو رکعتو تراویحو نیت وکړی او سهوا په دوهم رکعت کي نه کښینستی بلکه په دریم رکعت کي کښېنستی او سجده سهوه یي وکړه نو یو رکعت ضائع سو او که دری واړه؟

جواب: که یي سجده سهوه وکړه، نودوه رکعته تراویح وسوي، او که یي سجده سهوه ونه کړه نو دنقصان له امله لمونځ واجب الإعادة دی. (٢) فقط

تراویح ورکول دیوه مستقل امام حق دی او که دمقرر کړل سوی حافظ؟ سوال: (١٨٤٤) بکر په یوه جومات کي امام وټاکل سو، او دقرآن حافظ دی او زید هم دقرآن حافظ دی، هغه له ډیري زماني څخه په دي جومات کي تراویح کوي اوس بکر وایي چي زه امام مقرر سوی یم، دتراویحو ورکولو حق یوازي زما دی، او هغه بل حافظ وایي چي زما پخوانی حق دی نو حق دچا دی؟

جواب: په پوښتل سوي صورت کي چي کله بکر امام ټاکل سوی دی نو دتراویحو دامامت حق هغه ته حاصل دی. فقط (٣)

له فرض لمانځه څخه وروسته راتلونکي کسان دوتړو په جمعه کو شریکیدای سي؟ سوال:

(١٨٤٥) دوه دری سړي جومات ته په داسي وخت کي راغلل چي امام په تراویحو کي مشغول وو، دغه کسان فرض لمونځ په جمعه وکړي او که ځان ځانته بیا په جمع کي شامل سي، او وتر لمونځ به په جمعه سره کوي اوکه ځان ته؟

جواب: دکلي په جومات کي دوباره جمعه کول مکروه دي، نوکم کسان چي دفرضو له جمعي وروسته راغلل هغوی دی فرض لمونځ ځانته وکړي (٤) او دتراویحو په جمعه کي

---

(١) التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين للرجال والنساء اجماعا (درمختار) ووافقه على ذلك عامة الصحابة ومن بعدهم إلى يومنا هذا بلا نكير، وكيف لا وقد ثبت عنه صلى الله عليه وسلم عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضوا عليها بالنواجذ كما رواه ابوداؤد (ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٧٥٩). ظفير

(٢) وذكر الإمام الصفار في نسخته من الأصل أنه إن لم يقعد حتى قام إلى الثالثة على قياس قول محمد يعود ويقعد وعندهما لايعود ويلزمه سجود السهو كذافي الخلاصة (عالمگيري مصري باب النوافل ج١ ص١٠٧). ظ

(٣) واعلم أن صاحب البيت ومثله إمام المسجد الراتب اولى بالإمامة من غيره مطلقا (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الإمامة ج١ ص٥٢٢، ط.س. ج١ ص٥٥٩). ظفير

(٤) وروى عن أنس أن أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم كانوا إذا فاتتهم الجماعة في المسجد صلوا في =

دي شامل سي او وتر دي په جمع سره ادا کړي (١) غرض دا چي دوترو په جمعه کي ددغو کسانو شريکيدل جائز دي کما صرح به في الطحطاوي. (٢) فقط

دچا عمر چي له پنځه لسو کالو څخه ډير وي خو دبلوغ نښه يې ښکاره نه وي، نو دامامت يې څه حکم دی؟ **سوال**: (١٨٤٦) دزيد عمر دقمري مياشتو په اعتبارسره پنځلس کاله او څوارلس مياشتی دی، او په ظاهره دبلوغ هيڅ نښه ورباندي نسته، نو په زيد پسي دتراويحو او نور لمونځونه صحيح دي اوکه نه؟

جواب: په شريعت کي چي کله دبلوغ کمه نښه ښکاره نه سي، نو په قمري حساب په پوره پنځلس کلن کيدلو باندي دبلوغ حکم ورکول کيږي، درمختار (٣) څکه نو په زيد پسي نور لمونځونه او دتراويحو لمونځ صحيح دی.

تراويح له وترو څخه مخکي غوره دي اوله وترو څخه وروسته جائزي دي: **سوال**: (١٨٤٧) تراويح له وترو څخه مخکي کول ښايي او که له وترو څخه وروسته يو سړی دی مخکي وتر کوي او بيا تراويح کوي؟

جواب: دتراويحو په هکله مشروعه طريقه داده چي دماسخوتن له لمانځه څخه وروسته او دوترو څخه مخکي وسي بيا دي وتر وکړل سي ليکن که څوك تراويح دوترو څخه وروسته کوي نو داهم صحيح دي، په درمختار کي دي: ووقتها بعد صلوۃ العشاء إلى الفجر قبل الوتر وبعده في الأصح الخ (٤) فقط

چي تراويح شپاړس رکعته وکړي او پاته څلور دتهجدو په مهال وکړي نو څه حکم دی؟ **سوال**: (١٨٤٨) که چيري حافظ شپاړس رکعته تراويح وکړي او څلور رکعته ونه کړي په دي هيله چي بل څوك به يي ورکړي نوکه حافظ همدا څلور پاته رکعتونه دتهجدو سره په جمعه وکړي نو جائز دي اوکه نه؟ چي په خپله دتراويحو نيت وکړي او مقتديان دتهجدو

= المسجد فرادی (ردالمحتار باب الأذان مطلب في كراهة تكرار الجماعة في المسجد ج١ ص٣٢٧، ط. س. ج١ ص٣٩٢). ظفير

(١) وكان رجل قد صلى الفرض وحده فله أن يصليها مع ذلك الإمام لأن جماعتهم مشروعة فله الدخول فيها معهم (رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ ص٦٢٣، ط.س. ج٢ ص٤٨). ظفير

(٢) قوله فليراجع الخ قضية التعليل في المسئلة السابقة بقولهم لأنها تبع أن يصلي الوتر بجماعة في هذه الصورة لأنه ليس بتابع للتراويح ولا العشاء عند الإمام رحمه الله تعالى إنتهى، حلبی (الطحطاوی علی الدرالختار مبحث التراويح ج١ص....). ظفير

(٣) والسن الذي يحكم ببلوغ الغلام والجارية إذا انتهيا إليه خمس عشرة سنة عند ابي يوسف ومحمد وهو رواية عن ابي حنيفة وعليه الفتوى.(عالمگيري مصري كتاب الحجر باب الثاني فصل ثاني ج٥ ص٢٤). ظفير

(٤) الدرالمختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٥٩، ط.س. ج٢ ص٤٤. ظفير

نيت وکړي يا هغوی هم دا څلور رکعته دتراويحو په نيت وکړي نو دا فعل جائز دی اوکه نه؟ خصوصا چي دتداعي (دخلګو په رابللو) اجتماع وکړل سي؟

جواب: که څوك څلور رکعته تراويح پريږدي او دشپي په ورستني برخه کي دهغو جمعه وکړي دا صحيح ده (١) او دتراويحو پرته دنورو نوافلو جمع په تداعي سره يعني ددريو څلورو ډيرو کسانو سره جمع کول صحيح نه دي مکروه دي همدا ډول دتهجدو جمعه هم مکروه ده. (٢) فقط

په يوه شپه کي دختم حکم: **سوال**: (١٨٤٩) که چيري شبينه يعني دقرآن مجيد ختم په نفلو کي په جمعه سره وکړل سي نو جائز دی او که نه؟

جواب: که چيري شبينه يعني دقرآن مجيد ختم دنفلو په جمعه سره وي نو دا مکروه دی او دمکروه څخه مراد مکروه تحريمی دی، چي هغه حرامو ته څيرمه دي، نو ناجائز ويل ورته صحيح دي، او دتداعي تفسير دادی چي څلور مقتديان وي او په دريو کي اختلاف دی. (٣) فقط

پيغمبر ﷺ چي په رمضان کي کم لمونځ کړی وو هغه تراويح وي: **سوال**: (١٨٥٠) نبي ﷺ چي درمضان المبارك په درو شپوکي کم نفل په لويه جمعه سره کړي وو، هغه لمونځ تهجد وو اوکه تهجد نه وو که چيري هغه تهجد نه وو، نو دتهجد لمونځ چي دالله ﷻ ددي امر: وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ، او: يَا اَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ قُمِ اللَّيْلَ، دامتثال په وجه پيغمبر ﷺ ته په هغه باندي هميشه والی حاصل وو، دنوموړي لمانځه څخه وروسته نبي ﷺ دا لمونځ ادا کړی وو اوکه نه؟ مفصل او مدلل تحرير وفرمايئ!

جواب: محققينو فرمايلي دي چي هغه دتراويحو لمونځ وو، او کله چي په نوافلو کي تداخل کيږي او يو دبل قائم مقام ګرځي ځکه نو که چيري ټوله شپه په تراويحو تيره کړي نو تهجد هم په دي کي ادا کيږي کما في السنن وتحية المسجد والوضوء، او ددي تحقيق حضرت مولانا رشيد احمد قدس سره محدث او فقيه ګنګوهي په الرأی النجيح في عدد التراويح نومي رساله کي مفصلا فرمايلی دی، اودټولو شبهاتو جوابونه يي

(١) ووقتها (اي صلوة التراويح) بعد صلوة العشاء إلى الفجر في الوتر وبعده في الأصح (الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٢٥٩، ط.س. ج٢ ص٤٤). ظفير

(٢) ولايصلي الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان اى يكره ذلك لو على سبيل التداعي بأن يقتدي اربعة بواحد الخ (ايضا باب الوتر والنوافل بعد مبحث التراويح ج١ ص٦٢٣، ط.س. ج٢ ص٤٨). ظفير

(٣) ولا يصلي الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان اي يكره ذلك لو على سبيل التداعي بأن تقتدي اربعة بواحد (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج١ ص٦٢٣، ط.س. ج٢ ص٤٨). ظفير

مدلل بیان کړي دي، هغه رساله وګوری ان شاء الله تعالی دانصاف له مخي به هیڅ راز شبهه پاته نه سي! دهغوی دتحقیق حاصل دادی: چي رسول کریم ﷺ چي کمي دری ورځي په جماعت سره نوافل کړي دي، هغه دتراویحو لمونځ وو دتهجدو لمونځ نه وو او په هغه کي یي دټولو واردو سوو شبهاتو جوابونه داحادیثو او اثارو په رڼا کي ورکړي دي. (¹) فقط

دوظیفي په وجه دتراویحو جماعت پرې ښوول صحیح دي اوکه نه؟ سوال: (١٨٥١) یو سړی دماسختن دسنتو او وترو تر مینځ دیوي وظیفي عادي دی، په رمضان کي چي کله وتر په جمعه سره کیږي، نو وظیفه کم وخت لوستل په کار دي که وظیفه کوي نو دوولس رکعته تروایح ورځخه فوت کیږي، او اته رکعته نیولای سي نو داسړی اته رکعته تراویح وکړي او دوترو په جماعت کي ګډون وکړي، اوکه څنګه؟ اوکه دوترو جماعت پریږدي، او که خپله وظیفه په رمضان شریف کي پریږدي؟

جواب: دوظیفي له امله دتراویحو جماعت او دوترو جماعت پریښودل نه دي په کار، اوتراویح شل رکعته کول ښایي. (²)

دتراویحو دڅلورو رکعتو وروسته درود: سوال: (١٨٥٢) دتراویحو دڅلورو رکعتو وروسته چي کم خلګ داسي وايي: درود بر خواجه عالم، دا ویل صحیح دي او که نه؟

جواب: دتراویحو دڅلورو رکعتو وروسته چي کم خلګ دا توري وايي: (درود بر خواجه عالم) په داسي ویلو کي څه ستونزه نسته، لیکن دا درود شریف نه دی او ډیر ثواب ددرود شریف په لوستلو کي دی، غوره داده چي ددي پرځای دي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ووايي یا دي بل کم درود شریف وايي یا دي سبحان الله والحمد لله ولا إله إلا الله و الله أکبر (³) وايي. فقط

څوک چي دشپي تراویح کوي او دورځي روژه نه سي نیولای: سوال: (١٨٥٣) چي په کمه شپه تراویح وکړي دورځي روژه ونه نیسي ددي څه حکم دی؟

جواب: که چیري کم عذر وي لکه ناروغتیا یاسفر نوروژه نه نیول ورته مباح اوروا دي او

(¹) دغه رنګه دتروایحو دمسئلي دپاره دا رساله هم وګورئ "رکعات تراویح" چي دمفتاح العلوم اعظم ګړی لخوا خپره سوي ده. ظفیر

(²) والجماعة فیها سنة علی الکفایة الخ وهی عشرون رکعة الخ بعشر تسلیمات (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مبحث التراویح ج١ ص٦٦٠، ط.س. ج٢ ص٤٥). ظفیر

(³) یجلس ندبا بین کل اربعة بقدرها وکذا بین الخامسة والوتر ویخیرون بین تسبیح وقراءة وسکوت وصلوة فرادی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراویح ج١ ص٦٦١، ط.س. ج٢ ص٤٦). ظفیر

له عذره پرته درمضان روژه ماتول گناه کبيره ده، چي دهغي بدله دټول عمر په روژو سره هم نسي ورکول کيدلای کما ورد في الحديث: من أفطر يوما من رمضان من غير رخصة ولا مرض لم يقض عنه صوم الدهر کله وإن صامه. رواه أحمد والترمذي وغيرهما ([1]) الخ. فقط

په تراويحو کي ټول قرآن کريم لوستل غوره دي: سوال: (١٨٥۴) په تراويحو کي ټول قرآن کريم لوستل غوره دي او که په سورت فيل سره کول يي غوره دي؟

جواب: په درمختار کي دي: والختم مرة سنة الخ ولا يترك الختم لکسل القوم (الدرالمختار) ([2])، ددي حاصل دادی چي په تراويحو کي يوځل قرآن کريم ختمول سنت دي او دقوم دسستوالي له امله دي ختم نه پريښودل کيږي، په همدي باندي عمل دی او همدا معمول به دی، نور تفصيل په شروحو کي دی. فقط

په تراويحو کي دتلاوت سجده: سوال: (١٨٥٥) که په تراويحو کي سجده درکوع دختميدلو په مهال راسي او يا دسورت په پای کي راسي نو څنگه ادا کړل سي؟

جواب: کله چي په پای کي دسجدي ايات راسي نو دهغي دادا کولو دوه صورته دي يو دا چي سمدستي دتلاوت سجده وکړي او بيا پورته سي، او دځو اياتونو لوستلو وروسته دي بيا رکوع وکړي، دويم دا چي په رکوع کي دتلاوت دسجدي نيت وکړي نو سجده ادا کيږي، خو سمدستي به سجده کوي ([3]). فقط (دويم صورت مناسب نه دی، ځکه يوازی دامام نيت کافي نه دی، دمقتدي سجده تلاوت به پاته سي، اوله سلام څخه وروسته به ورباندي ادا وي: ولو نواها في رکوعه ولم ينوها المؤتم لم تجزه ويسجد إذا أسلم الإمام ويعيد القعدة (درمختار) سمدستي مستقله سجده کول ښايي، چي دسورت په ختميدلو باندي سجده وي، نو دتلاوت دسجدي څخه له پورته کيدلو وروسته دي دبل سورت څو اياتونه ووايي او بيا دي رکوع وکړي، وإن کانت السجدة آخر السورة يقرأ من سورة أخرى ثم يرکع (رد المحتار) که درکوع په ختميدلو باندي سجده وي، نو له سجدي څخه وروسته دي دبلي رکوع څو اياتونه ووايي، بيا دي دلمانځه لپاره رکوع

([1]) مشکوة شريف ص١٧٧. ظفير

([2]) الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٢٢، ط.س. ج٢ ص۴٢. ظفير

([3]) ولو تلاها في الصلوة سجدها فيها لا خارجها لما مر (درمختار) والأصل في ادائها السجود وهو افضل ولورکع لها على الفور جاز وإلا لا آه (رد المحتار ج١ ص٧٢٣، ط.س. ج٢ ص١١٠) يوائي په اولني صورت دي عمل وکړي تر څو په سنت طريقه ادا راسي يعني ددوو مسنونو جهري تکبيرونو او دوو مستحبو قيامونو په مينځ کي چي دتلاوت سجده ادا کړل سي: وهی سجدة بين تکبيرتين مسنونتين جهرا و بين قيامين مستحبين (درمختار باب سجود التلاوة، ط.س. ج٢ ص١٠٢). ظفير

وکړي. والله اعلم ظفير)

يوازې دفتحې ورکولو لپاره په تراويحو کې شريکيدل: سوال: (١٨٥٦) کم سړی چې دتراويحو په لمانځه کې په دې نيت شريك سي چې امام روان دی او غلطي کوي ده ته به ښوونه وکړم او بيا به لمونځ مات کړم نو په دې نيت سره هغه مقتدي ګرځي او که نه؟ که يې امام ته فتحه ورکړه او بيا يې لمونځ مات کړی نو دامام لمونځ وسو اوکه نه؟ او دشبيني څه حکم دی؟

جواب: دی مقتدي سو او لمونځ پوره کول دده پرذمه لازم سوه امام خو به فتحه واخلي هغه ته څه معلومات دی چې دی به دفتحې له ورکولو وروسته لمونځ ماتوي، دامام لمونځ وسو، خو په دې نيت سوه ګډون کول بد دي، ددې لمانځه پوره کول دده پرذمه لازم دی (١) شبينه که چيري دقرآن کريم په سمه توګه لوستلو سره وي نو صحيح ده او ښه خبره ده، ليکن څنګه چې په دې زمانه کې کيږي ډيری يې دګناهو سبب ګرځي نو پرهېښودل يې په کار دي. فقط

يو سړی په دوو ځايونو کې تراويح ورکولای سي اوکه نه؟ سوال: (١٨٥٧\١) که چيري امام په دوو ځايونو کې تراويح ورکوي، نو کيږي اوکه نه ؟ (٢) چې په رمضان شريف کې قرآن کريم ختم کړي نو د (الوداع) غزل ويل په مسجد کې جائز دي اوکه نه؟

جواب: (١) په دوو ځايونو کې چې يو امام تراويح ورکوي کيږي (٢) فقط (که چيري دواړه ځايه پوره پوره تراويح ورکړي نو دمفتی به قول له مخې ددويم جومات والاوو تراويح نه کيږي، په عالمګيري کې په ډاګه دي: په حاشيه کې حواله وګورئ. ظفير)

(٢) صحيح نه دي. (٣)

تراويح اته رکعته دي اوکه شل رکعته؟ سوال: (١٨٥٨) تراويح اته رکعته کول ښايي او که شل رکعته؟ مشرح او مدلل تحرير وفرماياست، او دامام ترشا په فاتحه ويلو، او په زوره امين ويلو کې څه حکم دی؟ څرګنده ليکنه وکړئ، اوايا دوترودری رکعتونه په دې ډول دي

---

(١) ومن شرع في نافلة ثم أفسدها قضاها (إلى قوله) ولنا أن المؤدى وقع قربة فيلزم الإتمام ضرورة صيانة عن البطلان (هدايه باب النوافل ج١ ص١٣١). ظفير

(٢) ولو أم في التراويح مرتين في مسجد واحد كره (إلى قوله) وإن صلى في المسجدين إختلف المشايخ فيه حكى عن ابي بكر الأسكاف أنه لايجوز يعني لايجوز تراويح أهل المسجد الثاني واختاره ابو الليث وقال ابو نصر يجوز لأهل المسجد جميعا الخ غنية الستملي ص٣٨٩، امام يصلى التراويح في مسجدين على الكمال لايجوز كذا في محيط السرخسي والفتوى على ذلك كذا في المضمرات. عالمگيري كشوري ط. ماجدية ج١ ص١١٢. ظفير

(٣) من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد، متفق عليه (مشكوة ص٣٧). ظفير

چي پردوو رکعتونو باندي لومړی قاعده ده؟

جواب: په فتح القدير کي دي: نعم يثبت العشرون من زمن عمر (رضی الله عنه) في المؤطا عن يزيد بن رومان قال كان الناس يقومون في زمن عمر بن الخطاب بثلاث وعشرين ركعة وروى البيهقي في المعرفة عن السائب بن يزيد قال كنا نقوم في زمن عمر بن الخطاب ﵁ بعشرين ركعة والوتر قال النووي في الخلاصة إسناده صحيح وفي المؤطا باحدى عشرة ركعة وجمع بينهما بأنه وقع اولا ثم إستقر الأمر على العشرين فانه متوارث فتحصل من هذا كله أن قيام رمضان سنة إحدى عشر ركعة بالوتر في فعله ﷺ تركه لعذر الخ فيكون سنة وكونها عشرين سنة الخلفاء الراشدين وقوله ﷺ عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين ندب إلى سنتهم (إلى أن قال) فتكون العشرون مستحبا الخ (١) ددي تحقيق څخه ثابته سوه چي دخلفاء راشدينو سنت شل رکعته تراويح دي، او پيغمبر صلى الله عليه وسلم دخلفاء راشدينو دسنت دپيروي امر کړی دی، نو دغير مقلدينو داوينا چي شل رکعته تراويح بدعت عمري دي ناپوهي ده په حديث باندي، او په شامي کي دي: قوله وهي عشرون ركعة هو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقا وغربا. غرض دادی چي په دي کي هيڅ دتأمل ځای نسته كما مر عن فتح القدير، نو دحنفيانو لپاره دا دليل کافي دی، نو که چيري بالفرض داخبره ثابته سي چي درسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کي شل رکعته تراويح کيدل دصحيح حديث څخه ثابت نه دي، نو دحضرت عمر ﵁ دزماني څخه خو بالإتفاق په سمه توګه ثابت دي، او دخلفاء راشدينو سنت په خپله واجب الإتباع دی، دشلو رکعتو ثبوت ددي څخه ډير نور ځنګه کيدای سي، الرأی النجيح، والحق الصريح او ايضاح الأدلة دمولوی اصغر حسين صاحب څخه را وغواړی، په مخکنيو دواړو رسالو کي دتراويحو پوره تحقيق دی او حق الأمر يي ښکاره کړی دی، او دحضرت مولانا محمود الحسن ﵁ په ايضاح الأدلة کي اختلافي مسائل لکه: رفع اليدين، فاتحه خلف الإمام او آمين بالجهر او نور ښه په تشريح سره ذکر سوي دي، دصحيحو احاديثو څخه يي دامام صاحب مسائل ثابت کړي دي، غير مقلدين دهغو له جوابونو څخه عاجز دي، ياد سوي کتابونه هرومرو راوغواړی او ويي ګوری، ماته خو ددي دلائلو درانقلولو وخت نسته او څه ليکل تحصيل دحاصل دي، ديادو سوو کتابو دمطالعي څخه پرته به دغير مقلدينو ددوکي څخه مقلدين ورونه نجات پيدا نه کړي، په دريو وترو کي دمنځنی قاعدي ثبوت دومره يقيني او څرګند دی

(١) فتح القدير بحث تراويح ج١ ص٤٠٧. ظفير

چي له هغي څخه انكار داهل حق اواهل دين كار نه دى، دا جرأت يوازي غير مقلدين كوي: صلاة الليل مثنى مثنى فإذا خشى الصبح صلى واحدة فأوتر لا صلى. صحيح حديث دى، ددې څخه په ښكاره ډول ثابته سوه چي ددوو ركعتو وروسته تشهد دى په فتح القدير كي دي: واخرج الحاكم قيل للحسن أن إبن عمر ﷺ كان يسلم في الركعتين من الوتر فقال عمر كان أفقه منه نهض بينهن في الثانية. په دي كي ددوو ركعتو څخه وروسته نهوض مصرح دى او نهوض دكښينستلو څخه وروسته وي همدا ډول په فتح القدير كي دي: قال الطحاوي حدثنا ابوبكر حدثنا ابوداؤد حدثنا ابو خالد قال سألت أبا العالية عن الوتر فقال علمنا اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم أن الوتر مثل صلوة المغرب هذا وتر الليل وهذا وتر النهار. (١) ددي حديث شريف څخه دا هم ثابته سوه چي وتر دماښام دلمانځه په ډول دي. فقط

<u>په تراويح كي درې ځله قل هو الله أحد لوستل څنګه دي؟</u> سوال: (١٨٥٩) [١] په تراويحو كي درې ځله قل هو الله لوستل جائز دي اوكه مكروه دي؟

<u>دترويحي څخه وروسته مناجات او نوافل ويل صحيح دي اوكه نه؟</u> سوال: (١٨٢٠) [٢] په تراويحو كي دترويحي څخه وروسته مناجات او نوافل كول صحيح دي اوكه نه؟

جواب: په ترويح كي درې ځله قل هو الله ويل مكروه نه دي (٢) البته لازم ګڼل به يي مكروه ګرځي نو ددي التزام نه ښايي.

[٢] په تراويحو كي له هري ترويحي څخه وروسته دعا، مناجات او درود شريف ويل او نوافل كول ټول جائز دي. فقط (٣)

<u>دتراويحو دپرې ښوولو ګناه</u>: سوال: (١٨٢١) دتراويحو دقضاء كولو ګناه سته اوكه نه؟

جواب: دسنتو دپرې ښودلو ګناه به ورباندي وي (٤) فقط. والله تعالى اعلم

<u>دتراويحو په ركعتونو كي داختلاف فيصله</u>: سوال: (١٨٢٢) لومړى ډله وايي چي درسول ﷺ

---

(١) فتح القدير بحث تراويح باب الوتر ج١ ص٣٧٢ – ٣٧٣ . ظفير

(٢) ولا يكره تكرار السورة في ركعة او ركعين في التطوع لأن باب النفل واسع (إلى قوله) فدل على جواز التكرار في التطوع (غنية المستملي ص٣٤٣) وقراءة قل هو الله أحد ثلاث مرات عند ختم القرآن لم يستحسنها بعض المشائخ وقال الفقيه ابو الليث هذا شيء إستحسنه أهل القرآن وأئمة الأمصار فلا بأس به إلا ان يكون الختم في المكتوبة فلا نزيد على مرة (غنية المستملي ص٤٢٤). ظفير

(٣) ثم هم مخيرون في حالة الجلوس إن شاءوا اسبحوا وإن شاءوا قعدوا ساكتين الخ (عالمگيري كشوري ج١ ص ١١٤، ط. ماجدية ج١ ص١١٥). ظفير

(٤) وهى سنة للرجال والنساء جميعا ونفس التراويح سنة على الأعيان (عالمگيري كشوري ج١ ص١١٤، ط. ماجدية ج١ ص١١٢). ظفير

لمونځ په رمضان او غیر رمضان کي یوولس رکعته وو، لکه څنګه چي دحضرت عائشي (رضی الله عنها) دحدیث شریف څخه ثابته ده، تراویح او نور ټول په دي کي داخل دي، دویمه ډله وایي چي تراویح ځانته لمونځ دی، وتر او تهجد نه دی، ځکه نو شل رکعته کول په کاردي په دي دواړو خبروکي دکمي ډلي خبره حقه او سمه ده؟

جواب: یوولس رکعته چي دحضرت عائشي صدیقي (رضی الله عنها) په حدیث کي راغلي دي هغه دتهجدو او وترو لمونځ دی لکه څنګه چي دغیر رمضان لفظ پردي باندي یوه ښکاره قرینه ده ځکه چي په غیر رمضان کي تراویح نه کیږي، تراویح شل رکعته دي، اود صحابه وو ﷺ اجماع پردي باندي ده قال في الدر المختار قوله عشرون رکعة هو قول الجمهور وعمل الناس شرقا وغربا (١) دامام مالك رحمه الله په مؤطا کي دا حدیث موجود دی، حدثنا مالك عن یزید بن رومان أنه قال کان الناس یقومون في زمان عمر بن الخطاب ﷺ في رمضان بثلث وعشرین رکعة قوله بثلث وعشرین رکعة قال البیهقي والثلث هو الوتر ولا ینافیه الروایة السابقة فانه وقع اولا ثم إستقر الأمر علی العشرین فروی البیهقي باسناد صحیح أنهم یقومون في عهد عمر بعشرین رکعة وفي عهد عثمان وعلی مثله (٢). فقط

دتراویحو حدیث: **سوال**: (١٨٢٣) ابن خزیمه او ابن حبان چي کم حدیث په خپلو صحیحینو کي دجابر بن عبد الله په روایت راوړی دی: قال صلی بنا رسول الله صلی الله علیه وسلم في شهر رمضان ثمان رکعات واوتر. الحدیث، او غیر مقلدین دا خپل حجت ګڼي نو ددي حدیث داسناد په هکله په پوره توګه دجرحي او قدحي لیکنه وکړی؟

جواب: دابن خزیمه او ابن حبان صحیحین دلته موجود نسته چي هلته ددوی سند وکتل سي، ددي روایت توجیه محققینو عالمانو لیکلي ده، هغه دلته رانقل کوم، په فتح القدیر کي دي: قدمنا في باب النوافل عن ابي شلمة ابن عبدالرحمن سألت عائشة کیف کانت صلوة رسول الله صلی الله علیه وسلم في رمضان فقالت ماکان یزید في رمضان ولا في غیره علی إحدی عشرة رکعة الحدیث إلی أن قال نعم ثبتت العشرون من زمن عمر ﷺ في المؤطا عن یزید بن رومان قال کان الناس یقومون في زمن عمر بن الخطاب بثلاث وعشرین رکعة وروی البیهقي في المعرفة عن السائب بن یزید قال کنا نقوم في زمان عمر بن الخطاب بعشرین رکعة والوتر قال النووي في الخلاصة اسناده صحیح (٣)

(١) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ط.س. ج٢ ص٤٥. ظفیر

(٢) غنیة المستملی ص٣٨٨. ظفیر

(٣) فتح القدیر باب التراویح ص٤٠٧. ظفیر

الخ نو معلومه سوه چي شل ركعته تراويح دخلفاء راشدينو سنت دي، او پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين، ځكه دا ضروري ده چي دخلفاء راشدينو سنت معمول بها وګرځول سي. فقط
كه يو حافظ په يوه اونۍ كي په يوه جومات كي قرآن كريم په تراويح كي ختم كړي او په بله اونۍ كي بيا په بل جومات كي ددې څه حكم دی؟ **سوال**: (١٨٢٤) ځيني حافظان په شپږو اوو ورځو كي قرآن كريم په يوه جومات كي په تراويحو كي ختم كړي، بيا په بل جومات كي دويم ختم په تراويحو كي اوروي دا صحيح دي اوكه نه؟ او ددويم جومات دخلګو تراويح كيږي اوكه نه؟ حافظان او ځيني عالمان دي ته جائز وايي، او ځيني وايي چي حافظ لره يو ختم سنت دی او دويم ختم يي نفل دی؟ او دمقتدي لپاره سنت دی، نو دسنت كوونكو لمونځ په نافل پسي نه كيږي ددې تحقيق وليكئ.
جواب: په يوه جومات كي په شپږو اوو ورځو كي دقرآن كريم له ختمولو وروسته په بل جومات كي حافظانو ته ختم كول صحيح دی او ددويم جومات دخلګو تراويح صحيح كيږي، ځكه چي دتراويحو لمونځ په ټول رمضان كي سنت مؤكده دی نو په دويم جومات كي چي حافظ تراويح وركړي هغه هم سنت مؤكده سوي، او دمقتديانو تراويح هم سنت مؤكده دي ددواړو لمونځ يوسو، برسيره پردې په نفل كوونكي پسي سنت هم كيږي او دا شبهه چي دقرآن كريم ختم يوځل سنت مؤكده دی او دويم دريم ځل نفل دی بې ځايه ده ځكه چي لمونځ دامام سنت مؤكده دی دختم په نه سنت كيدلو سره خو لمونځ دسنت والي څخه نه وزي، او دمقتديانو په لمانځه كي هيڅ كمی نه راځي ليكن غوره او بهتره په دې زمانه كي داده چي حافظ امام دي په رمضان كي له يوه ختم څخه ډير نه كوي تر څو مقتديانو ته ګرانه نه سي، كما في الدرالمختار لكن الإختيار الأفضل في زماننا قدر ما لا ينقل عليهم وفي الشامي ومنهم من استحب الختم في ليلة السابع والعشرين رجاء أن ينالوا ليلة القدر [1] الخ. فقط
په تراويحو كي چي ځيني اياتونه سهوا پاته سي اوامام يي په دويمه، دريمه ورځ ووايي نوجائز دي اوكه نه؟ **سوال**: (١٨٢٥) په تراويحوكي چي امام ځيني اياتونه اسهوا پريږدي، او په دويمه دريمه ورځ هغه په متفرق ډول پرله پسي ووايي دا جواز لري اوكه نه؟ او دپوره ختم ثواب به له كراهته سره وي اوكه له كراهته پرته؟ يو عالم وايي چي لوستونكي او اوريدونكي ته اګركه دپوره ختم ثواب رسيږي خو ورسره به ګناه هم وي،

---
(1) رد المحتار ج١ ص٦٢٢ ، ط.س. ج٢ ص٤٧. ظفير

ځکه چي دمثال په توګه دسورة مائدي اياتونه دسورة توبې سره وويل سول، دهغه دا وينا سمه ده اوکه نه؟

جواب: دپوره ختم ثواب به ورته ورسيږي، اوکله چي دا کار سهوا په هيره سره سوی، نو په دي کي هيڅ ګناه اوکراهت نسته. ([1])

په نابالغ پسي تراويح کوونکي ګنهګار دي اوکه نه؟ **سوال**: (١٨٢٦) په نابالغ حافظ پسي تراويح کيږي اوکه نه؟ اوکه يې څوك په زور (اصرار) سره کوي نو هغه به ګناهګار وي اوکه نه؟

جواب: دصحيح مذهب موافق په نابالغ پسي تراويح او نور لمونځونه نه کيږي، څوك چي داسي کوي دهغه دتراويحو لمونځ ونه سو. *ہٰکذا فی الدر المختار والشامی وغیرہما* ([2]) فقط

آيا حافظ ته دتلو راتلو کرايه ورکول او ډوډۍ وربانـدي خوړل پـه معاوضـه کـي داخـل دي؟

سوال: (١٨٢٧) يو حافظ دشعبان په پای کي را وغوښتل سو، ټولو خلګو چنده وکړه او دتلو راتلو واقعي کرايه يې ورکړه، او درمضان مبارك ګرده مياشت يې وربانـدي ښـه او غوره خوراکونه وخوړل، نو په دي صورت کي دقرآن کريم اوريدل بلاعوضـه سـو اوکـه دا صورت هم نا جائز دی، او هغه ته نوري زيات شی دختم په عـوض کـي نـه ورکـول کيـږي، که چيري دا سي ونه کړل سي نو هغه حافظ ختم نه کوي؟

جـواب: حـافظ دبهـر څخـه راغوښـتل او هغـه تـه دتلـو راتلـو کرايـه ورکـول او دهغـه قـرآن شـريف دمعاوضـي پرتـه اوريـدل جـائز او دثـواب کـاردی او هـر کلـه چي هغـه دبهـر څخـه راغلی او رابلل سوی ميلمه دی نو په هغـه بانـدي ښـه خوراکونـه کـول جـائز دي او ثـواب لري. فقط

دخوارلسو ١۴ کالو په هلک پسي تراويح صحيح دي اوکه نه؟ **سوال**: (١٨٢٨) دخوارلسو کلو په هلك پسي تراويح کول څنګه دي؟

جواب: دخوارلسو کلو په هلك پسي فـرائض او تـراويح هـيڅ صـحيح نـه دي صـحيح دا ده چي ترڅو پوري هلك پوره دپنځلسو کالو نه سي په هغه پسي تراويح مه کوی، پـه هدايـه شامي ([3]) اونوروکي يې همدا ډول ليکلي دي (البته که چيري دخوارلسو ١۴ کلو په عمر

([1]) واذا غلط في القراءة في التراويح فترك سورة او اية وقرا مابعدها فالمستحب ان يقرأ المتروكة ثم المقروءة ليكون على الترتيب كذا في فتاوى قاضي خان (عالمگيري مصري ج١ ص١١٠، ط. ماجدية ج١ ص١١٨). ظ

([2]) ولا يصح إقتداء رجل بامرأة وخنثى وصبي مطلقا ولو في جنازة ونفل على الأصح قال في الهداية وفي التراويح والسنن المطلقة جوزه مشائخ بلخ ولم يجوزه مشائخنا ومنهم من حقق الخلاف في النفل المطلق بين ابي يوسف ومحمد والمختار أنه لا يجوز في الصلوات كلها (ردالمحتار ج١ ص٥٤١، ط. ماجدية ج١ ص٥٧٦).

([3]) ولايجوز للرجال أن يقتدوا بإمرأة اوصبي الخ وفي التراويح والسنن المطلقة جوزه مشأئخ بلخ ولم يجوزه مشائخنا =

کي دبالغ والي نښې پيدا سوي وي او هغه ووايي چي زه بالغ يم نو په هغه پسې بيا صحيح دي. ظفير)

په تراويحو کي امام او سامع برابر درول څنګه دي او سامع ته اجرت ورکول جائز دي اوکه نه؟ سوال: (١٨٦٩) په تراويحو کي که امام ته دسامع اړتيا وي او که نه وي دهغه په برابر دسامع درول څنګه دي او سامع ته اجرت ورکول څنګه دي؟

جواب: که چيري څه اړتيا وي دساري په توګه که دليري څخه دسماع ښوونه دامام په فهم کي نه راځي نو بيا يې برابر درول صحيح دي او دضرورته پرته ښه نه دي، او سامع په اجرت باندي تاکل هم ښه نه دي بلکه ناجائز دي ځکه چي دقرآن کريم په لوستلو او اوريدلو باندي اجرت اخستل حرام دي. فقط

دتراويحو دحديث په هکله پوښتنه: **سوال**: (١٨٧٠) عن السائب بن يزيد أن عمر بن الخطاب جمع الناس في رمضان على أبي بن كعب وعلى تميم الداري على إحدى وعشرين ركعة قال إبن عبدالبر هو محمول على أن الواحدة الوتر. دا حديث تاسو دعيني ددويم ټوک **٣٥٧** صفحې په حواله ليکلي دی، مهرباني وکړئ دا هم وليکئ چي په کمه عيني کي دي دهدايې په شرحه عيني کي او که دبخاري په شرحه عيني کي او دکم چاپ په **٣٥٧** صفحه کي دي او دکمي مسئلې په بيان کي؟

جواب: عن السائب بن يزيد أن عمر ابن الخطاب (رضى الله عنه) جمع الناس في رمضان على أبى ابن كعب وعلى تميم الداري على إحدى وعشرين ركعة الخ قال إبن عبدالبر هو محمول على أن الواحدة للوتر. عيني شرح هدايه جلد خامس كتاب صلوة التراويح ص١٩١ مطبوعه يوسفي کي داسي نقل فرمايي: قال عبد البر في شرح المؤطا روى غير مالك في هذا الحديث احد وعشرون وهو الصحيح (فقط محمد ابراهيم مدرس مدرسه هذا)

تراويح سنت دي اوکه واجب يا نفل: **سوال**: (١٨٧١) دتراويحو لمونځ سنت مؤکده دی اوکه سنت يا نفل؟

جواب: قال في الدرالمختار التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين الخ وفي الشامى وكيف لا وقد ثبت عنه ﷺ عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضوا عليها بالنواجذ كما رواه ابوداؤد [1] (ددي څخه څرګنده سوه چي تراويح سنت مؤکده دي. ظفير)

= إلخ والمختار أنه لايجوز في الصلوات كلها لأن نفل الصبي دون نفل البالغ الخ (هدايه باب الإمامة ج١ ص١١١). ظ

[1] رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٥٩، ط.س. ج٢ ص٤٣. ظفير

چي څوک شل رکعته تراويح ومني، خو بيا کله ديارلس اوکله څلويښت کوي دی به ګنهګار وي او که نه؟ سوال: (۱۸۷۲) که يو سړی دشلو رکعتو تراريحو دسنتوالي داعتقاد سره سره، کله يوولس، کله ديارلمس، اوکله يو څلويښت رکعته کوي نو ايا دی به ګنهګار وي؟ او ايا دا ياده سوي شميره په حديثونو کي راغلي ده؟

جواب: تراويح شل رکعته سنت مؤکده دي، ددي خلاف کوونکی دحنفيانو په وړاندي دسنتو پريښودونکی دی (۱) (او دسنت څخه خلاف کول بد دي (۲) او يادي سوي شميري په حديثونو کي راغلي دي ليکن دحنفيانو په وړاندي پرتولو حديثونو باندي دپوره غور اوکتني وروسته همدا شل رکعتونه غوره ګڼل سوي دي، او دحضرت عمر ﷺ په تحريك سره پردي باندي دصحابه کرامو رضوان الله علهيم اجمعين اجماع وسوه. والله اعلم. ظفير)

تولي تراويح په يوه سلام سره: سوال: (۱۸۷۳) ددين عالمان ددي مسئلي په هکله څه وايي زيد وايي چي ټولي تراويح په يوه سلام او يوه تکبير سره روا دي او بکر وايي چي دسنت سره ناسمي او مکروه دي، او ددواړو سره دليلونه سته ؟

جواب: أقول وبالله التوفيق: دتراويحو په مسئله کي دبکر وينا حقه ده (۳) لکه څنګه چي په درمختارکي دي: فعلها بتسليمة فإن قعد لكل شفع صحت بكراهة وفي الشامي أى صحت عن الكل وتكره إن تعمد وهذا هو الصحيح الخ شامي ج۱ ص۲۲۰.

پاته سوی اياتونه په تراويحو کي څه وخت ووايي: سوال: (۱۸۷۴) زموږ په ملك کي حافظان په عمومي ډول بي علمه دي، هغوی داسي کوي چي په تراويحو کي دقرآن کريم دويلو په مهال چي سهوا په مينځ کي کم اياتونه يا پيښ، زبر اوزير پاته سي نو په بل رکعت کي يا په راتلونکي شفعه کي هغه پاته سوي اياتونه وايي، ليکن په کمه شفعه کي چي دغه اياتونه پاته سوي وه هغه بيا نه راګرځوي؟ اوس ددي خبري معلوميدل پکار دي چي دآياتو په پاته کيدلو سره دمعنی داوښتلو په صورت کي چي دکل لمانځه فساد لازميږي، نو دلمانځه اعاده لازمه ده اوکه نه؟ او که دمعنی په بدليدلو دنه خبريدلو دوجهي اعاده نه لازميږي؟

---

(۱) وهي عشرون ركعة بعشر تسليمات (درمختار) رهو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقا وغربا (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مبحث صلوة التراويح ج۱ ص۲۲۰، ط.س. ج۲ ص۴۵). ظفير

(۲) ترك السنة لا يوجب فسادا ولا سهوا بل إساءة لو عامدا، (درمختار) فتاركها يستوجب إساءة أى التضليل واللوم (رد المحتار مطلب سنن الصلوة ج۱ ص۴۴۲، ط.س. ج۱ ص۴۷۴). ظفير

(۳) دسوال څخه ظاهره ده چي زيد شل رکعاته په يوه سلام سره بلا کراهته جائز وايي ليکن دا صحيح نه ده بلکه صحيح داده چي جائز مع الكراهة ده). جميل الرحمٰن

جواب: كه چيري دقرائت غلطي په داسي شفعه كي راغلي وي چي په هغه موقع كي پاته كيدل دفساد موجب وي نو ددغي شفعي راګرځول واجب دي، او كه چيري داسي غلطي وي چي هغه لمونځ ماتوونكي نه وي، نو دلمانځه بيا راګرځول ضروري نه دي بلكه لمونځ كيږي، نو په لمانځه كي داياتونو، يا دضمي فتحي او كسري په پاته كيدلو كي هم همدا حكم دى دساري په توګه په مينځ كي دڅو اياتونو په پاته كيدلو سره په معنى كي بدلون رانغى نو دغه دوه ركعته صحيح دي يوازي دقرآن كريم دختم پوره كيدلو لپاره دي په بله شفعه كي دهغو اعاده وكړي، او همدا بس دي. فقط (وإذا غلط في القراءة في التراويح فترك سورة او آية وقرء ما بعدها فالمستحب له أن يقرأ المتروكة ثم المقروءة ليكون على الترتيب كذا في قاضي خان وإذا فسد الشفع وقد قرأ فيه لا يعتد بما قرأ فيه ويعيد القراءة ليحصل له الختم في الصلوة الجائزة الخ فتاوى عالمګيري ج١ ص١١٠ مصري)

په تراويحو دقرآن كريم پر اورولو اجرت: **سوال**: (١٨٧٥) [١] خلګو زيد ته په تراويحو كي دقرآن كريم داورولو لپاره بلنه وركړه او دزيد دختم كولو وروسته اوريدونكو په خپل مينځ كي په چنده كولو سره دانګريزي سكي روپۍ هغه ته وركړي، او دا ډول وركړه په عرف كي رواج هم ده، خو دومره خبره وه چي دوركړي په مهال يي ورته وويل چي دا ستاسو دبدلې وړ نه دي، او ددواړو لورو نيت يوازي دالله جل جلاله لپاره وو، ايا زيد ته ددي روپو اخيستل روادي اوكه نه؟ او اوريدونكو ته يي وركړه رواده اوكه نه؟

ديوې شپې دختم حكم: **سوال**: (١٨٧٦) [٢] دقرآن كريم ختم په يوه شپه كي چي په عرف كي په ختم شبينه باندي شهرت لري دشريعت په رڼا كي څه حكم لري؟

جواب: قانون دادى چي دقرآن كريم په تلاوت او ختم باندي مزدوري او عوض اخستل حرام دي؟ او دتلاوت كوونكي او اوريدونكو ثواب له مينځه وړي، كما في الشامي كتاب الإجارة قال تاج الشريعة في شرح الهدايه أن القرآن بالأجرة لايستحق الثواب لا للميت ولا للقاري (إلى أن قال) والآخذ والمعطي آثمان الخ فاذا لم يكن للقاري ثواب لعدم النية الصحيحة فأين يصل الثواب إلى المستأجر [١] الخ نو په پوښتل سوي صورت كي كه چيري دعرف موافق چي دښكاره شرط په ډول دى، قاري زيد داوريدونكو څخه دمال داخستلو اراده لرله اوداوريدونكو سره دمال دوركولو اراده وه، په دي صورت كي دفقهاؤ دڅرګندونو له مخي دزيد او اوريدونكو ثوابونه باطل سوه او

[١] ردالمحتار كتاب الاجارة ج٥ ص٤٧، ط.س. ج٥ ص٥٢٢. ظفير

دقرآن شريف سنت ادا نه سو اوكه دقاري او اوريدونكو په زړه كي دروپو دوركولو او اخستلو نيت نه وو، دختم وروسته يې يوائې دالله درضا دپاره روپى وركړي او هغه ومنلي بيا كيداى سي چي جائز وي، فالعبرة لنية القاري والسامعين، قال عليه الصلوة والسلام: إنما الأعمال بالنيات وإنما لإمرئ ما نوى. الحديث (رواه البخاري وغيره)
[٢] په درمختار او رد المحتاركي ويلي دي: ويجتنب المنكرات هذرمة القواءة درمختار قوله: هذرمة بفتح الهاء وسكون الذال وفتح الراء سرعة الكلام والقراءة. قاموس شامي ج١ ص٢٣. ددي عبارت څخه څرگنده سوه چي كه چيري ديوي شپي په ختم كي قراءت دهذرمه حد ته ورسيږي نو مكروه ده، ځكه چي هذرمه قراءت دوى له منكراتو څخه شمارلى دى. فقط
يوازي تراويح به په زوره كوي اوكه په كراره؟ سوال: (١٨٧٧) سړي به تراويح په جمع سره كوي اوكه ځان ځانته؟ كه يې ځانته كولي نو په زوره به يې وايي اوكه كرار؟
ښځي دوترو جماعت كولاى سي اوكه نه؟ سوال: (١٨٧٨) ښځي دوترو جماعت وكړي اوكه نه؟
له سنتو وروسته تراويح شروع كړي: سوال: (١٨٧٩) په رمضان شريف كي كه چيري تراويح شروع سوي نو دوه ركعته سنت چي له فرضو وروسته دى هغه وكړي بيا په تراويحو كي گډون وكړي اوكه هغه وروسته وكړي؟
په يوه جومات كي دتراويحو دوهمه جمع: سوال: (١٨٨٠) دتراويحو او وترو جماعت وسو اوس دويم جماعت وكړي اوكه نه؟
جواب: [١] والجماعة فيها سنة على الكفاية (درمختار باب التراويح) ويخير المنفرد في الجهر إن أدى (إلى قوله) كمتنفل بالليل منفردا ص٥٥٢ (درمختار ملخصاً) في فصل القراءة، سړي دي په جمع سره كوي كه چيري يوسړى دجمع څخه پاته سي، او يوازي لمونځ كوي، نوكه يي كرار وايي اوكه په زوره، دواړه صحيح دي خو په اواز سره ښه دي.
[٢] ښځي دي دوترو جماعت نه كوي، (ويكره تحريما جماعة النساء ولو في التراويح الخ (درمختار على الشامي ج١ ص٧٢٨) فقط
[٣] فرض او سنت دي وكړي بيا دي په تراويحو كي شامل سي فقط. (وقتها بعد صلوة العشاء قال الشامي ج١ ص٧٥٩). فقط
[٤] دوهم ځل دي په همدغه جومات كي تراويح په جمعه سره نه كوي. فقط (لو ترك ([١])

([١]) دليل ددي دادى چي په يوه جومات كي دتراويحوپه متعددو جماعتوسره هغه نوعيت بياراگرځي چي دهغه دختميدلو لپاره دوهم خليفه حضرت عمر فاروق ﷺ بيل بيل لمونځ كوونكي ديوه امام په اقتداءكي را يو =

الجماعة في الفرض لم يصلو التراويح جماعة (درمختار). جميل الرحمن

ايا په يوه سلام سره شل ركعته تراويح صحيح دي: **سوال**: (١٨٨١) شل ركعته تراويح په يوه سلام سره كول جواز لري او كه نه؟

جواب: شل ركعته تراويح په يوه سلام سره كول مكروه تحريمي دي (فلو فعلها بتسليمة فان قعد لكل شفع صحت بكراهة وإلا نابت عن شفع واحد. (شامي ج١ ص٢٢). جميل الرحمن

پنځم فصل

دتهجدو مسئلې

چې دچا څخه لمونځونه قضا سوي وي، دهغو قضا غوره ده او كه تهجد؟ سوال: (١٨٨٢) چې ديوه سړي لمونځونه ډير قضا سوي وي، هغه لره دتهجدو په وخت كي يا په نورو مناسبو وختونو كي تهجد كول او يا نور نوافل كول غوره دي او كه دقضا سوو لمونځونو قضايي راوړل؟

جواب: په درمختار كي دي: وقضاء الفرض والواجب والسنة فرض وواجب وسنة ([1]) يعني دفرضو قضايي راوړل فرض او دواجبو واجب او دسنتو سنت ده، حاصل داچي دعمري قضا دلمونځونو په ادا كولو كي ځنډ، سستي او ناراستي ښه نه ده، تر كمه حده چي كيداى سي او په كم وخت كي چي كيداى سي نو دفرضو او وترو قضاء دي ادا كړل سي، دا غوره خبره ده ([2]) ليكن دتهجدو لمونځ چي دهغه په قرآن كريم او احاديثو كي ډير فضيلت راغلى دى، لكه څنگه چي په صحيح مسلم كي دي: افضل الصلوة بعد الفريضة صلوة الليل ([3]) يعني له فرضو لمونځونو څخه وروسته دتهجدو لمونځ غوره

= ځاى كړې وه، عن عبد الرحمن بن عبدالقادر قال خرجت مع عمر بن الخطاب ليلة في رمضان إلى المسجد فإذا الناس اوزاع متفرقون يصلي الرجل لنفسه ويصلي الرجل بصلوته الرهط قال عمر إني أرى لو جمعت هؤلاء على قارئ واحد لكان أمثل ثم عزم بجمعهم على ابي بن كعب ﷺ، كبيري للحلبي ص٣٨٣. ددي څخه څرگنديږي چي په يوه جومات كي په متعددو جماعتو سره تراويح دعمر فاروق ﷺ دوينا سره سم له امثل طريقى څخه خلاف ده، وقال عليه الصلوة والسلام عليكم بسنتي وسنة خلفاء الراشدين المهديين تسمكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ. (مشكوة بحواله ترمذي). جميل الرحمن

([1]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢. ظفير

([2]) وجميع اوقات العمر وقت للقضاء إلا الثلاثة المنهية (درمختار) وهى الطلوع والإستواء والغروب (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفير

([3]) په مشكوة كي داحمد دمسند څخه دا راويت په دي الفاظو منقول دى: افضل الصلوة بعد المفروضة صلوة في جوف الليل. رواه احمد (مشكوة باب التحريض في قيام الليل ص١١٠) او په ذكر سوو الفاظو سره وگورئ: رد المحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٠). ظفير

دی، نو ددي فضیلت اقتضاء خو همداده، چي دا دي هیڅکله نه پرېښودل کېږی، او دا فضیلت له نوافلو پرته په دغه وخت کي دقضايي لمونځونو په ادا سره نه ترلاسه کېږي، قال في رد المحتار: أن التهجد لايحصل إلا بالتطوع فلو نام بعد صلوة العشاء ثم قام فصلی فوائت لايسمی تهجدا ([1]) (ص۵۰۵) یعني تهجد دیته وایي چي دماسختن دلمانځه وروسته دشپي په وروستنی برخه کي راکښیني او نوافل وکړي. نوکه یو څوك په دي وخت کي دنفلو پرځای خپل قضا سوی لمونځ وکړي، نو هغه ته تهجد نه ویل کېږي، یعني هغه اجر چي دتهجد دلمانځه دی هغه په دي لمانځه سره نه تر لاسه کېږي، نو په داسي صورت کي که ډېر نه سي کیدای نو لږ تر لږه دوه رکعته نفل خو کوئ، او دا دتهجد دلمانځه کمه درجه ده، قال في ردالمحتار وأقل التهجد رکعتان وأوسطه اربعة واکثره ثمان ([2]) ص۵۰۵. فقط

دتهجدو په لمانځه کي مختلفي دعاګاني کله ولوستل سي؟ **سوال:** (۱۸۸۳) په احادیثو کي مختلفي دعاګاني په تهجدو کي واردي دي، هغه دثناء څخه وروسته ویل کېږي اوکه له تکبیر تحریمه څخه مخکي؟

جواب: دغه دعاګاني له تکبیر تحریمه څخه مخکي لوستل ښايي. ([3]) فقط

تهجد دماسختن دلمانځه وروسته او له وترو څخه مخکي کول څنګه دي؟ **سوال:** (۱۸۸۴) کم سړی چي دشپي په آخر کي دتهجدو په کولو قادر نه وي نو هغه دماسختن دلمانځه وروسته تر وترو مخکي نوافل وکړي او که دوترو وروسته؟

جواب: دطبراني دحدیث الفاظ دادي: وما کان بعد صلوة العشاء فهو من اللیل ([4]) دا روایت دوترومخکي او وروسته نوافلو ټولوته شامل دی، لیکن غوره قبل الوتردي. فقط

دتهجدو رکعتونه او قراءت: **سوال:** (۱۸۸۵) زید دتهجدو لمونځ په اوږده قراءت سره په دي ډول کوي چي کله یوه پاره او کله دوې پاري کله دری پاري په یوه رکعت کي وو ايي په نورو دریو رکعتو کي لنډ غوندي ایاتونه وو ايي، او ختم یي کړي دا طریقه څنګه ده؟

([1]) ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة اللیل ج۱ ص۷۴۱، ط.س. ج۲ ص۲۴. ظفیر

([2]) ایضا ، ط.س. ج۲ ص۲۴. ظفیر

([3]) عن ابن عباس قال کان النبی ﷺ إذا قام من اللیل بتهجد قال اللهم لك الحمد انت قیم السموات الخ متفق علیه وعن عائشة ؓ قالت کان البی صلی الله علیه وسلم إذا قام من اللیل إفتتح صلوته فقال اللهم رب جبریل الخ (مشکوة باب ما یقول إذا قام من اللیل ص۱۰۸). ظفیر

([4]) رد المحتار باب الوتر و النوافل مطلب في صلوة اللیل ج۱ ص۷۴۰، ط.س. ج۲ ص۲۴. ددي حدیث درانقلولو وروسته علامه شامي لیکي: وهذا يفيد أن هذه السنة تحصل بالتنفل بعد صلوة العشاء قبل النوم. ایضا. ظفیر

جواب: دتهجدو لمونځ اته ركعته كول غوره دي، او ښه داده چي قراءت په ټولو ركعتونو كي برابروالي ته څيرمه وي اوكم صورت چي په سوال كي ياد سو هغه هم جائزدی. (١) فقط

په تهجدو په هر ركعت كي سورت اخلاص ويل ضروري نه دي: **سوال**: (١٨٨٦) دتهجدو په لمانځه كي سورت اخلاص يو ځاى كول هر ځل فرض دي اوكه نه؟

جواب: جائز دي ليكن څه ضروري نه دي. فقط

په تهجدو كي په زوره قراءت: **سوال**: (١٨٨٧) دتهجدوپه نفلونو كي قرآن مجيد په لوړ اوازسره ويلاى سي اوكه نه؟

جواب: جائز اومستحب دی. (٢)

په تهجدو كي دلنډو او اوږد سورت لوستل: **سوال**: (١٨٨٨) دتهجدو په نفلوكي چي سورت اخلاص لوستل كيږي، په اول ركعت كي دولس ځله، په دويم كي يوولس ځله، په وار وار كميږي، نو په هر ركعت كي سورت مزمل ويل غوره دي، اوكه سورت اخلاص په ياد سوي ترتيب؟

جواب: په فرضو كي دسورت تكرارول مكروه ليكل سوي دي، اوپه نوافلو كي صحيح دي (٣) ليكن كه لوى لوى سورتونه لكه سورت ياسين او سورت مزمل او نور ووايي نو دا اولى او بهتر دي. او په دي كي به ثواب ډير وي. فقط (٤)

دتهجدو وخت: **سوال**: (١٨٨٩) دتهجدو وخت تر څه وخته پوري وي؟

جواب: دتهجدو وخت دصبح صادق تر راختلو پوري وي. فقط (٥)

---

(١) وأقلها على ما في الجوهرة ثمان ولو جعله أثلاثا فالأوسط أفضل ولو انصافا فالأخير افضل (الدرالمختار) قيد بقوله على ما في الجوهرة لأنه في الحاوي القدسي قال يصلي ما سهل عليه ولو ركعتين وسنة فيها ثمان ركعات بأربع تسليمات (رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل ج١ ص٢٤١، ط.س. ج٢ ص٢٥) ومن التعليل أن المنفرد يسوي بين الركعتين في الجميع إتفاقا شرح المنية (ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص٥٠٥، ط.س. ج١ ص٥٤٢). ظفير

(٢) ويخير المنفرد في الجهر الخ كمتنفل بالليل منفردا فلوأم جهر (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص٤٩٨، ط.س. ج١ ص٥٣٣). ظفير

(٣) لا بأس أن يقرأ سورة ويعيدها في الثانية الخ ولايكره في النفل شيئ من ذلك (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص٥١٠، ط.س. ج١ ص٥٤٢). ظفير

(٤) وعن عبدالله بن عمرو بن العاص قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من قام بعشر ايات لم يكتب من الغافلين ومن قام بمائة آية كتب من القانتين ومن قام بألف آية كتب من المقنطرين. رواه ابوداؤد (مشكوة باب صلوة الليل ص١٠٧). ظفير

(٥) وصلوة الليل الخ لو جعله اثلاثا فالأوسط افضل ولو أنصافا فالأخير افضل (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل ج١ ص٢٤٠، ط.س. ج٢ ص٢٤) عن عائشة ﷺ قالت =

دتهجدو څو رکعتونه غوره دي؟ سوال: (۱۸۹۰) په احاديثو کي دتهجدو لمونځ دپيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه که ډير وو نو لس رکعته ثابت دی، او دوترو سره کله ديارلس او کله لس اوکله نه رکعته (مشکوة شريف) کم سړی چي تهجد کوی هغه دي داتباع په غرض همدغه ډول کوي اوکه يوه شميره وټاکي؟
جواب: کله چي پيغمبر ﷺ ډير ځلي اته رکعته تهجد کړي دي او دری وتر، ځکه نو حنفي فقهاؤ په اتو رکعتونو باندي هميشه والی مستحب بللی دی، اوکه ګنجايش نه وي نو دوه يا څلور رکعته هم بس والی کوي. والتفصيل في الشامي (۱)

دتهجدو لمونځ په تياره کي: سوال: (۱۸۹۱) دتهجدو لمونځ په تياره کي کيږي اوکه نه؟
جواب: کيږي. (۲) فقط

دماسختن څخه وروسته سمدستي تهجد وکړل سي اوکه نه؟ سوال: (۱۸۹۲) که يو سړی دمجبوری له وجهي دا خيال وکړي چي زما سترګي به دتهجدو په وخت کي ويښي نه سي، ځکه نو دماسختن دلمانځه څخه وروسته تهجد وکړي، دهغه تهجد وسو اوکه نه؟
جواب: ديوه حديث شريف څخه دا څرګنديږي چي دماسخوتن دلمانځه وروسته چي کم نوافل وکړل سي هغه به دتهجدو دلمانځه څخه ګڼل کيږي، او دتهجدو ثواب به ورباندي حاصليږي، لکه څنګه چي په شامي کي دطبراني حديث را نقل کړی دی، وروی الطبراني مرفوعا لا بد من صلوة بليل ولو حلب شاة وما كان بعد صلوة العشاء فهو من الليل وهذا يفيد ان هذه السنة تحصل بالتنفل بعد صلوة العشاء قبل النوم (۳) الخ. فقط

دتهجدو رکعتونه بايد څومره اورده وي: سوال: (۱۸۹۳) [۱] په حديث شريف کي دي: ثم صلى ركعتين وهما دون اللتين قبلها، الحديث مخکني دوه رکعته دوروستنيو څخه څومره اوږده وه، مثلا يوسړی په تهجد کي دوې پاري لوستل غواړي نو په هرو دوو رکعتونو کي څومره ووايي؟

دپيغمبر صلی الله عليه وسلم دقدمونو پړسوب: سوال: (۱۸۹۴) [۲] په حديث شريف کي دي چي پيغمبر صلی الله عليه وسلم دومره وخت ولاړ وو چي: تورمت قدماه. الحديث

= كان النبي صلى الله عليه وسلم يصلي فيما بين أن يفرغ من صلوة العشاء إلى الفجر إحدى عشرة ركعة الخ (مشکوة باب صلوة الليل ص ۱۰۵ فصل اول). ظفير
(۱) وصلوة الليل اقلها على ما في الجوهرة ثمان (درمختار) قيد بقوله على مافي الجوهرة لأنه في الحاوي القدسي قال يصلي ما سهل عليه ولو ركعتين والسنة فيها ثمان ركعات باربع تسليمات (رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل ج۱ ص۷۴۱، ط.س. ج۲ ص۲۵). ظفير
(۲) دلمانځه لپاره رڼا ضروري نه ده پيغمبر صلی الله عليه وسلم په تياره کي هم لمونځ کوی. ظفير
(۳) ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلاة الليل ج۱ ص۷۴۰، ط.س. ج۲ ص۲۴. ظفير

كله چي شمار دتهجدو اته ركعته وو نو دقراءت اندازه يي څومره وه چي پښني مباركي به يې پړسيدلي؟

په صحابه وو كي دتهجدو دقراءت مقدار: **سوال**: (١٨٩٥) [٣] په تهجدوكي قراءت دصحابه وو داثارو څخه څومره اندازه ثابت دي؟

ترتكبير تحريمه وروسته دعاګاني: **سوال**: (١٨٩٦) [۴] يو څو دعاګاني په حديثو كي منقولي دي چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم به له تكبير تحريمه څخه وروسته ويلي لكه: إني وجهت وجهى الخ دا به داحنافو په وړاندي ترتكبير تحريمه وروسته وايي اوكه مخكي؟

دتهجدو په موقع به لومړي دوه ركعتونه دتهجدو وي او كه دتحية الوضوء؟ **سوال**: (١٨٩٧) [۵] دپيغمبر صلى الله عليه وسلم دتهجدو مخكني دوه لنډ ركعتونه چي راغلي دي هغه تحية الوضوء دي اوكه څه دي؟

دا دعا بايد كم ځاى ولوستل سي؟ **سوال**: (١٨٩٨) [٢] دعا: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا الخ منقوله ده دا دعا دتهجدو څخه مخكي وواېي اوكه وروسته اوكه دسهار ترسنتو وروسته؟

دا دعا په ولاړه وواېي اوكه په ناسته؟ **سوال**: (١٨٩٩) [٧] عن ابن عباس قال كان النبي ﷺ إذا قام من الليل يتهجد اللهم لك الحمد الخ دا دعا په ولاړه وواېي اوكه په ناسته؟

دپيغمبر ﷺ دپيروي په نيت سره تهجد كله لږ او كله ډير وكړل سي اوكه نه؟ **سوال**: (١٩٠٠) [٨] كم سړى چي تهجد دګران پيغمبر صلى الله عليه وسلم دتهجدو مطابق كول غواړي، نو هغه كله لس ركعته، كله اته ركعته، او كله شپږ، كله څلور وكړي، او كه روزانه اته ركعته وكړي؟

دتهجدو وخت: **سوال**: (١٩٠١) [٩] دتهجدو مينځني وخت كم دي؟

جواب: [١-٢] كله به ګران نبي كريم صلى الله عليه وسلم دتهجدو ركعتونه ډير اوږدول، څو څو پاري به يي په يوه ركعت كي لوستلي، (١) چي له همدي امله به يې پښني مباركي

(١) عن حذيفة أنه رأى النبي ﷺ يصلي من الليل وكان يقول الله اكبر ثلثا ذو الملك والملكوت والجبروت والكبرياء والعظمة ثم إستفتح فقرء البقرة ثم ركع فكان ركوعه نحو من قيامه فكان يقول في ركوعه سبحان ربي العظيم ثم رفع رأسه من الركوع فكان قيامه نحوا من ركوعه يقول لربي الحمد، فكان سجوده نحوا من قيامه فكان يقول في سجوده سبحان ربي الأعلى ثم رفع رأسه وكان يقعد في ما بين السجدتين نحوا من سجوده وكان يقول رب اغفر لي رب اغفر لى فصلى اربع ركعات قرأ فيهن البقرة و آل عمران والنساء والمائدة، او الأنعام شك شعبة رواه ابوداؤد (مشكوة باب صلوة الليل فصل ثاني ص١٠٧) ددي حديث شريف څخه اندازه لګيږي چي په تهجدو كي قراءت په دومره اوږدوالي سره وو چي دبقري څخه تر مائدي پوري لوستل به يې پكښي كول، واللہ اعلم

پرسیدلي، اوس که څوك غواړي دوه سپاري په اتو رکعتونو کي ووايي نو اختيار لري که په ټولو رکعتونو کي پاو پاو (ربع ربع) وايي او که په اولنيو رکعتوکي لږ ډير وايي، اوپه ورستنيو کي کم وايي دا ټول جائز او سنت دي. فقط

[۳] هيڅ تحديد په دي کي منقول نه دی، (١) [۴] دتکبير تحريمي څخه مخکي. (٢)

[۵] دا احتمال هم سته. (٣) [۶] چي کم وخت يي ووايي هغه وخت غوره دی. [۷] چي کم وخت ولاړيږي هغه وخت دي ووايي. [۸] درسول الله صلی الله عليه وسلم ډير عادت اته رکعته کول وو، نور به يي دموقع موافق لږ او ډير کول. [۹] دشپي وروستنی برخه غوره ده. فقط

دتهجدو دلمانځه رکعتونه: **سوال:** (١٩٠٢) [١] دتهجدو دلمانځه درکعتونو لومړنی او وروستني حد تر څومره پوري دی؟

دتهجدو دپري ښوولو نقصان څه دی؟ **سوال:** (١٩٠٣) [٢] چي دتهجدو لمونځ شروع کړي، اودسستي په وجه يې دوه څلور ورځي پريږدي، نو څه مالي يا جسمي تاوان به وي اوکه نه؟

دتهجدو لمونځ څرنګه ادا کړل سي؟ **سوال:** (١٩٠٤) [٣] دتهجدو دلمانځه دادا کولو طريقه څنګه ده؟ يعني دهغو لپاره کمه ځانګړي دعاده او کم خاص خاص سورتونه مقرر دي، موږ چي له قرآن کريم څخه کم سورتونه غواړو هغه لوستلای سو او که نه؟

---

(١) وصلوة الليل أقلها على ما في الجوهرة: ثمان ولو جعله اثلاثا فالأوسط افضل ولو أنصافا فالأخير افضل، (درمختار) لو جعله اثلاثا الخ اى لو اراد أن يقوم ثلثه وينام ثلثيه فالثلث الأوسط افضل من طرفيه لأن الغفلة فيه اتم والعبادة فيه أثقل، وإن أراد ان يقوم نصفه وينام نصفه فقيام نصفه الأخير أفضل الخ (رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب صلوة الليل ج١ ص٧٤١-٧٤٢، ط.س. ج٢ ص٢۴) په قرآن شريف کي دي: يا ايها المزمل قم الليل إلا قليلا نصفه اوانقص منه قليلا او زد عليه ورتل القرآن ترتيلا. بيا دسورت په پای کي دي: إن ربك يعلم انك تقوم أدنى من ثلثي الليل ونصفه وثلثه (مزمل١-٢) ددي اياتونو څخه معلومه سوه چي دتهجدو په لمانځه کي دپيغمبر صلی الله عليه وسلم قيام اوږد وو، چي نيمه شپه، يا دوه ثلثه يا يو ثلث به هغه مسلسل ولاړ وو، او دا دهغه ورځنی معمول وو نو بيا په (حتی تورمت قدماه) باندي هيڅ اشکال باقي نه پاته کيږي. اوکله چي قيام اوږد وو نو ښکاره خبره ده چي قراءت هم اوږد وو، او همدا خبره وه هم لکه څنګه چي قرآن اعلان کړی، علم ان سيکون منکم مرضى وآخرون يضربون في الأرض يبتغون من فضل الله وآخرون يقاتلون في سبيل الله فاقرءوا ما تيسر منه. (مزمل:٢٠) يعني دومره قراءت دي وويل سي چي اسان وي، والله اعلم. ظفير

(٢) وعن ابي يوسف أنه يضم إليه قوله إني وجهت إلى اخره الخ وما رواه محمول على التهجد الخ والأولى أن يأتي بالتوجه قبل التكبير (هدايه باب صفة الصلوة ج١ ص٩٢). ظفير

(٣) عن زيد بن خالد الجهنى أنه قال لأرمقن صلوة رسول الله ﷺ فصل ركعتين خفيفتن ثم ركعتين طويلتين الخ (مشكوة باب صلوة الليل ص١٠٧). ظفير

داشراق او نور لمونځونه: **سوال**: (۱۹۰۵) [۴] داشراق لمونځ، دڅاښت لمونځ، او داوابين لمونځ، ددي ټولو لمونځونو په نيت او ترتيب موږ پوه کړئ.

جواب: [۱] لږ ترلږه څلور رکعته او ډير دولس رکعته په تهجدو کي مسنون دي، او په شامي کي يې ليکلي دي چي که چيري صرف دوه رکعته هم وکړي نو دتهجدو ثواب به ورته حاصل سي فقط. (۱)

[۲] چي تهجد پيل کړي او بيا يې پريږدي نو څه مالي نقصان نه ور اوړي او شرعًا ګنهګاريږي هم نه ليکن دعذر پرته دا ډول کړنه دمذمت وړ ده، او ديني او روحاني زيان په دي سره مينځ ته راځي. او جسماني نقصان يې دادی چي دچالاکي ځای سستي ونيسي. (۲)

[۳] دتهجدو لپاره شرعا دکم سورت خصوصيت نسته، ځينو بزرګانو چي کم سورتونه ښودلي يا ليکلي دي، هغه هيڅکله لازمي اوضروري نه دي، که ياد وي نو بدي يې نسته.

[۴] په اوابينو، اواشراق او څاښت ټولو کي يواځي دنفل لمانځه نيت کول کافي دي، دکم خاص لمونځ يا وخت نوم اخستل اړين او ضروري نه دي، (۳) او عوامو او ناخبرو ته اوږده اوږده نيتونه ښودل او دهغوی پريشانه کول ناپوهي ده او چي کم سورت ويل غواړي ودي وايي. کتبه اصغر حسين عفی عنه. الجواب صحيح. مهر

دتهجدو اته رکعته دي او که دوولس؟ **سوال**: (۱۹۰۶) يوه سړي ديوه مولوي څخه سوال وکړی چي ښاغلي دتهجد و دلمانځه څو رکعته دي، او دهغو ترتيب څنګه دی؟ مولوي صاحب ځواب ورکړی چي: دتهجدو لمونځ اته رکعته دی، نو پوښتونکي ورته وويل چي: په ځينو کتابونو کي يې دوولس رکعته ښودلي دي او عالمان هم ددوولسو رکعتو قائل دي، مولوي صاحب ور غبرګه کړه چي: دغه خلګ ناپوهان دي، او دا ټول کتابونه غلط دي، او ته داسلام څخه وتلی يې، نو ايا دتهجدو لمونځ دوولس رکعته دحديث

---

(۱) قال الشامي أقول فيبقى القول بأن أقل التهجد ركعتان الخ ايضا في رسائل الأركان لبحر العلوم مولانا عبدالعلي رح ص۱۳۵، ردالمحتار ط.س. ج۲ ص۲۵ تحت حديث المسلم عن ابن عبدالله قال زعم البعض أن هذا نوع آخر لصلوته عليه السلام أن صلوة الليل اثنا عشر ركعة والوتر الخ، ط.س. ج۲ ص۲۵. ظفير

(۲) وايضا في الشامي ذكر في الحلية ايضا ما حاصله أنه يكره ترك تهجد إعتاده بلاعذر لقوله ﷺ لابن عمر يا عبد الله يا عبدالله لا تكن مثل فلان كان يقوم الليل ثم تركه. متفق عليه. شامي ج۱ ص۷۱۲ – ۷۱۷ ، ط.س. ج۲ ص۲۵. ظفير

(۳) وفي الكبيري المصلي إذا كان متنفلا سواء كان ذلك النفل سنة مؤكدة او غيرها يكفيه نية مطلق الصلوة ولا يشترط تعين ذلك النفل الخ كبيري ص۲۳۵. جميل الرحمن.

څخه ثابت دی او که نه؟ ددوولسو رکعتونو مجوزینو ته جاهلان ویل صحیح دي او که نه؟ او پوښتونکي ته داسلام څخه خارج ویل جائز دي اوکه نه؟ دعدم جواز په تقدیر داسلام څخه دخارج (یعني کافر) مصداق به څوك جوړیږي، او داکلمه به پرچا باندي را ګرځي او په دغه مولوي پسي لمونځ صحیح دی اوکه نه؟ او دوترو لمونځ یو رکعت ثابت دی اوکه نه؟ او دحضرت عائشي رضي الله عنها ددي حديث شريف څخه چي: أن النبی ﷺ لم يكن يوتر بانقص من سبع ولا باكثر من ثلث عشرة. رواه ابوداؤد. چي څوك وتر يو ركعت او تهجد دولس رکعته ثابتوي نو دا صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دتهجدو په هکله روایتونه مختلف دي، لږ تر لږ دوه، او ډیر تر دوولسو پوري روایتونه راغلي دي، لیکن په اکثري طور سره دپیغمبر ﷺ تهجد اته رکعته وو، په همدي بناء باندي حنفي فقهاؤ لیکلي دي چي په تهجد کي سنت اته رکعته دي، په درمختار کي دي: وأقلها على ما في الجوهرة ثمان الخ قال في رد المحتار في الحاوي القدسي قال يصلي ما يسهل عليه ولو ركعتين والسنة فيها ثمان ركعات بأربع تسليمات وهذا بناء على أن اقل تهجده ﷺ كان ركعتين وأن منتهاه كان ثمان ركعات اخذا مما في المبسوط السرخسي ([1]).

او حضرت قاضي ثناء الله رحمه الله په ما لابد منه کي فرمايي: و نماز تهجد از چار رکعت کمتر نیامده، و از دوازده رکعت زیاده هم به ثبوت نه پیوسته الخ ([2]) نو دحدیثو دپلټني څخه څرګندیږي چي تر دوولسو رکعتو پوري په تهجدو کي ثابت دي، او ډیر اته رکعته دي نو ددوولسو رکعتو څخه انکار کول په خپله دقائل ناپوهي ده او بیا په دي باندي پوښتونکي ته دکفر اونورڅه نسبت کول بل جهالت دی، او سخت معصیت دی چي دکفر بیره ده.

دشیخیڼو په حدیث کي دي أیما رجل قال لأخيه كافر فقد باء بها أحدهما، رواه الشيخين عن ابن عمر ([3]) مرفوعا. اګرکه قائل ته دکفر په نسبت کولو کي به احتیاط کیږي دتاویل داحتمال په وجه، لیکن دهغه په فسق کي هيڅ شك نسته، او په فاسق پسي لمونځ مکروه دی، إلا أن يتوب. (مګرکه توبه وباسي) او په وترو کي ددرو رکعتو څخه کم نسته، همدا (خبره) صحیح او غوره ده، او همدا دحنفیانو مذهب دی، او په کومو روایتونو کي چي یو رکعت دوترو وارد دی، دهغه تاویل کړل سوی دی، کما هو

([1]) رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل ج١ ص٢۴٠ – ٢۴١، ط.س. ج٢ ص٢۵. ظفير

([2]) ما لابد منه مطبوعه کتب خانه رحیمیه فصل نوافل ص٢٨. ظفير

([3]) مشکوة باب حفظ اللسان والغيبة والشتم فصل اول ص۴١١. ظفير

المعووف عند العلماء. ترمذي، ابوداؤد او نسائي. سألنا عائشة بأی شئ كان يوتر رسول الله صلى الله عليه وسلم قالت كان يقرأ في الأولى سبح إسم ربك الأعلى وفي الثانية بقل يا أيها الكافوون وفي الثالثة بقل هو الله أحد و المعوذتين. ([1])

او په ځينو روايتونو كي معوذتين ذكر نه دي، او په يوه ركعت دوتر كولو دنه جواز دلائل دمنيي په شرحه او په نورو كتابونو كي سپړل سوي دي، نهی عن البتيراء په متعدد دو طرقو ثابته ده، په دي ځای كي ډير تفصيل نه سي كيدای. فقط

دتهجدو دلمانځه وخت: **سوال**: (١٩٠٧) دتهجدو دلمانځه وخت دنيمي شپي څخه وروسته دی اوكه مخكي، لكه څنګه چي د (اوانقص منه قليلا، او زد عليه) دآيت څخه معلوميږي، اوكه په دواړو وختونوكي جائز دي، دجواز په تقدير غوره والی كم وخت لري؟

جواب: دماسخوتن دلمانځه وروسته چي كم نوافل كيږي هغه صلوة الليل دي، او په تهجدوكي داخل دي كما في الشامي وماكان بعد صلوة العشاء فهو من الليل وهو يفيد أن هذه السنة تحصل بالتنفل بعد العشاء قبل النوم الخ قلت قد صرح بذلك في الحلية ([2]) الخ. او دتهجدو غوره وخت دشپي وروستنی برخه ده، لكه څنګه چي داحاديثو څخه ښكاريږي. فقط والله أعلم.

دتهجدو قضاء: **سوال**: (١٩٠٨) كه چيري دتهجدو لمونځ قضا سي نو دهغو قضا را ګرځول دورځی ددوولسو بجو څخه مخكي صحيح دي اوكه نه؟

جواب: دتهجدو دلمانځه قضا نسته، ليكن دغرمي څخه مخكي كول يي ښه دي. ([3]) فقط

كه دتهجدو لمونځ په جمع سره وكړل سي څه حكم يي دی؟ **سوال**: (١٩٠٩) كه چيري دتهجدو لمونځ دماسختن تر جمعي وروسته دسنتو او وترو په مينځ كي ادا كړي، دوولس ركعته يا اته ركعته يا شپږ يا څلور، او ډير وګړي دتهجدو دلمانځه شوقيان وي، كه دا لمونځ په جمعه سره وكړي، او يا يي دشپي په وروستنۍ برخه كي په جمع سره وكړي نوڅه ستونزه او ګناه خوبه پكښي نه وي، ديو شمير معتبرو ذريعو څخه اوريدل سوي دي چي ښاغلي مولانا ګنګوهي (رحمه الله) ليكلي دي چي كه دا لمونځ په جماعت سره وكړي نو څه بدي پكښي نسته، بلكه له مستحباتو څخه دی؟

([1]) مشكوة باب الوتر ص١١٢. ظفير

([2]) رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل ج١ ص٦٤٠، ط.س. ج٢ ص٢٤. ظفير

([3]) وعن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من نام عن حزبه او عن شيء منه فقرأه فيما بين صلوة الفجر وصلوة الظهر كتب له كأنما قرء من الليل. رواه مسلم (مشكوة باب القصد في العمل ص١١٠). ظفير

جواب: داحاديثو څخه داسي څرګنديږي، چي كه چيري دماسختن له لمانځه وروسته له خوب څخه مخکي دتهجدو نوافل وکړل سي، نو دتهجدو ثواب به حاصليږي، وهذا يفيد أن هذه السنة تحصل بالتنفل بعد صلوة العشاء قبل النوم (١) او تهجد په جمعه سره ادا کول مکروه دي، که په تداعي يعني دخلګو په رابللو سره وي، په درمختارکي دي: أي يکره ذلك لو على سبيل التداعي بأن يقتدي اربعة بواحد الخ (٢) او حضرت مولانا ګنګوهي دتهجدو دجماعت جوازنه ورکوي، حضرت مولانا به ددي څخه منعه کوله، (او شيخ الإسلام حضرت مدني رحمه الله به ديته جائز ويل ليکن يواځي په رمضان کي دکال په نورو برخوکي نه، او په رمضان کي دهغوی په همدي باندي عمل وو. ظفير)

شپږم فصل

دصلوة تسبيح مسائل

په صلوة تسبيح کي دتسبيح وخت: **سوال**: (١٩١٠) دصلوة التسبيح په اولني اودريم رکعت کي به تسبيح کم وخت وايي، دشوافعو په نزد خو داستراحت په ناسته کي ويل کيږي دحنفيانو په نزد څه وخت ويل کيږي، او غوره قول کم يو دی؟

جواب: همدا غوره او معمول به خبره ده چي کښيني او تسبيح ووايي، بيا دي پورته سي، دفاتحي اوسورت څخه وروسته دي ۱۵ پنځه لس واره تسبيح ووايي. (٣)

دصلوة التسبيح جماعت مکروه دي: **سوال**: (١٩١١) دصلوة التسبيح جماعت صحيح دی او که نه؟

جواب: دنوافلو جماعت که هغه صلوة التسبيح وي او که نور نوافل وي په تداعي سره يي جمع کول مکروه ده. (٤) فقط

دصلوة التسبيح ثواب: **سوال**: (١٩١٢) [١] دصلوة التسبيح ثواب لکه څنګه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل اکا حضرت عباس (رضی الله عنه) ته فرمايلی وه، نورو امتيانو ته به هم هغه ډول ثواب رسيږي او که نه؟

په صلوة التسبيح کي سهو: **سوال**: (١٩١٣) [٢] که چيري په صلوة التسبيح کي سهوه وسي

(١) رد المحتار مطلب في صلوة الليل ج١ ص٦٤٠، ط.س. ج٢ ص٢٤. ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب في كراهية الإقتداء في النفل ج١ ص٦٢٣، ط.س. ج٢ ص٢٨. ظ

(٣) فبعد إنشاء خمسة عشر مرة ثم بعد القراءة وفي ركوعه والرفع منه الخ وقال إنها المختار من الروايتين و الرواية الثانية أن يقتصر في القيام على خمسة عشر مرة بعد القراءة (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة التسبيح ج١ ص٦٤٣، ط.س. ج٢ ص٢٧). ظفير

(٤) ولا يصلي الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان أی يکره ذلك لو على سبيل التداعي أن يقتدي اربعة بواحد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٣، ط.س. ج٢ ص٢٨). ظفير

نو سبحان الله والحمد لله به په سجده سهوه كي وايي او كه به سبحان ربي الأعلى وايي، په قيام كي سبحان رب الأعلى الخ **٢٥** ځله ووايي او كه پنځه لس ځله، كه يې په ولاړه كي **٢٥** ځله ووايي نو ددوهمي سجدي وروسته به يي نه وايي دا صحيح دي اوكه نه؟

جواب: [١-٢] په حديث شريف كي دي: إنما الأعمال بالنيات الخ ولكل إمرئ ما نوى. الحديث (١) نو دثواب مدار پرنيت باندي دى، كه چيري څوك صلوة تسبيح لوجه الله په پاك نيت سره وكړي نو اوس به هم دومره ثواب ورباندي حاصليږي لكه چي پيغمبر ﷺ حضرت عباس رضي الله عنه ته دښووني په مهال فرمايلى وه هغه دهغوى ځانګړتيا نه وه، لكه څنګه چي دپيغمبر صلى الله عليه وسلم دنورو دعاګانو ښووني او دهغو دثوابونو زيري عام وو، په سجده كي دي سبحان ربِّي الأعلى وايي، اوپه قيام كي دي پنځلس ځلي سبحان الله الخ (٢) وايي. حاصل داده چي صلوة تسبيح خو فرض او واجب نه دي، ليكن كه يې څوك كوي نو په هغه طريقه دي كوي كمه چي دسلفو څخه منقوله ده، دخپله ځانه په دي كي طريقه جوړول صحيح نه دي. فقط

درمضان په وروستني جمعه كي دصلوة تسبيح په جَمع سره دكولو ثبوت سته؟ سوال: (١٩١۴) درمضان شريف په اخرنى جمعه كي ځيني خلګ صلوة تسبيح په جَمع سره كوي، په دي هكله شرعا څه حكم دى، امام دا وايي چي بي علمه خلګ تسبيح نسي كولاى، ځكه به نو هغوى ته دامام په متابعت كي ثواب حاصل سي، اعتبارا بصلوة الكسوف والخسوف والإستسقاء.

جواب: ددي څه اصل نسته، او په دي سره دفوت سوو لمونځونو كفاره نه كيږي، او دامام خيال هم غلط دى دبدعت ارتكاب په دي خيال سره صحيح نه دى. فقط

تسبيح معروفه كم كم وخت بايد ولوستل سي؟ سوال: (١٩١٥) په صلوة التسبيح كي تسبيح معروفه پنځلس ځله دقراءت څخه مخكي او لس ځلي دقراءت څخه وروسته، په شامي كي منقول دي، او په حديث شريف كي ددوهمي سجدي څخه وروسته لس ځلي وارد دي، دحنفيانو په نزد په كم باندي عمل دى، اوكه يې دسجدي څخه وروسته وايي نو دتكبير ويلو څخه وروسته دي لوستل وكړي بيا دي ودريږي اوكه څنګه؟

جواب: شامي دواړه صورتونه ليكلي دي، او دواړه منقول دي، ليكن غوره هغه صورت معلوميږي چي دمشهورو احاديثو سره موافق دى، چي دقراءت څخه وروسته دي

---

(١) مشكوة قبيل كتاب الإيمان. ظفير

(٢) الرواية الثانية أن يقتصر في القيام على خمسة عشرة مرة بعد القراءة (رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب صلوة التسبيح ج١ ص٦۴٣، ط.س. ج٢ ص٢٧). ظفير

پنځلس ځلي، او ددويمي سجدي څخه دپاڅيدلو وروسته دي لس ځلي ياده سوي تسبيح ووايي، بيا دي پورته سي. فقط [1]

<u>دصلوة تسبيح په قومه کي دي لاسونه ايله ولري</u>: **سوال**: (١٩١٦) دصلوة تسبيح په قومه کي لاسونه تړلي ولري اوکه يې ايله وساتي؟

جواب: ايله ساتل يې معمول به دي. فقط

<u>صلوة التبيح څلور رکعته په يوه سلام سره اوکه په دوو سره؟</u> **سوال**: (١٩١٧) صلوة التسبيح څلور رکعته په يوه سلام سره کول اولی دي، او که په دوو سلامونو سره اوکه چيري تسبيحات دلسو پرځای په هيره سره پنځلس ځله ووايي نو سجده سهوه به لازمه سي اوکه نه؟

جواب: په صلوة التسبيح کي که ددوو رکعتونو نيت کوي او که دڅلورو په دواړه ډوله جائز دي که يي دڅلورو رکعتو نيت وي نو په منځنی قعده کي دي درود شريف وايي او تسبيحات که دلسو پرځای پنځه لس ووايي نو سجده سهوه نه لازميږي. فقط

<u>که تسبيحات ورڅخه په يوه ځای کي هير سي نو په بل ځای کي يې لوستلای سي؟</u> **سوال**: (١٩١٨) که په صلوة التسبيح کي ديوه ځای تسبيحات ورڅخه هير سوه اوبل رکن ته په تکبير ويلو سره ولاړی او په دغه رکن کي يې ډبل تسبيحات وويل نو سجده سهوه لازميږي او که نه؟

جواب: په دي کي څه ستونزه نسته او سجده سهوه نه لازميږي. فقط

نهم باب

دفرضو دنيولو په بيان کي

په جمع کي شريکيدل

<u>دفرضو داقامت په مهال ددې حکم څه وجه دچي منفرد دي دفرضو نيت مات کړي خو دسنتو او نفلو نيت دي نه ماتوي؟</u> **سوال**: (١٩١٩) يوه سړي په خپله رکن الدين نومي رساله کي دعالمگيري په حواله ليکلي دي چي که څوك دماښام يا سهار فرض ځانته کوي، او ددويم رکعت دسجدي څخه مخکي جمعه ودريږي، نو لمونځ دي مات کړي، او په جمعه کي دي شامل سي اوس شبهه دا ده چي جمعه سنت ده او داعمالو دباطلولو څخه په قرآن

---

[1] عن ابن عباس (رضى الله عنه) أن النبي ﷺ قاذل للعباس بن عبد المطلب ياعباس ياعماه الا اعطيك الخ إذا أنت فعلت ذلك غفر الله لك ذنبك الخ، أن تصلي اربع ركعات تقرأ في كل ركعة فاتحة الكتاب وسورة فإذا فرغت من القرآءة في أول ركعة وأنت قائم قلت سبحان الله والحمد لله الخ خمس عشرة مرة ثم تركع فتقولها وانت راكع عشر ثم ترفع رأسك من الركوع فتقولها الخ. (مشكوة ص١١٧. باب صلوة التسبيح). ظفير

کريم کي نهی راغلي ده او دسهار دسنتو په هکله يې ليکلي دي چي ترڅو پوري دآخري قعدي دنيولو هيله وي نو سنت دي نه ماتوي او دڅلورو رکعتو سنتو په هکله يې ليکلي دي چي که چيري په دريم رکعت کي جمعه ودريده نو څلور رکعته به پوره کوي او بيابه په جمعه کي شريکيږي نو شبهه داده چي په دي مسئلو کي سنتو ته پرفرضو غوره والی ولي حاصل دی چي فرض ماتيږي اوسنت نه ماتيږي؟

جواب: کله چي دعمل دا ابطال داکمال لپاره دی، ځکه نو جائز دی او ممنوع نه دی بلکه غوره او دثواب کار دی (١) اودسهار په سنتوکي دا مسئله هم ده چي که دوروستنی قعدي دنيولو هيله وي نو هم دي سنت پوره کړي، بيا دي په جمعه کي شريك سي ترڅو ثواب هم ورته حاصل سي او سنت هم ادا سي (٢) غرض داچي يادي سوي مسئلي صحيح دي. فقط (٣)

داقامت ويل کيدلو وروسته امام ته ډير وخت دريدل او بيا تکبير تحريمه ويل څنګه دي؟

سوال: (١٩٢٠) يوه سړي دماپښين دسنتو نيت وتړی يواځي يو رکعت يې کړی وو چي تکبير وويل سو ترڅو پوري چي ددغه سړي څلور رکعته پوره سوي نه وه امام دلمونځ ځای ته نه تلی کله چي هغه څلور سره رکعتونه پوره کړل نوامام دلمونځ ځای ته ورسيدی او په اول تکبير سره لمونځ ادا کړل سو، دا لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي لمونځ وسو او دتکبير دبيا راګرځولو اړتيا نسته کما في الدر المختار صلی السنة بعد الإقامة او حضر الإمام بعدها لا يعيدها. بزازيه. (٤) فقط

---

(١) والقطع وإن كان ابطالا للعمل وهو منهى لقوله تعالى: ولا تبطلوا أعمالكم، والإبطال بقصد الإكمال لايكون ابطالا. (شرح وقايه باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٠٩). ظفير

(٢) وإذا خاف فوت ركعتي الفجر لإشتغاله بسنتها ترك لكون الجماعة اكمل وإلا بأن رجا إدراك ركعة في ظاهر المذهب وقيل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالي تبعا للبحر لكن ضعفه في النهر لا يتركها بل يصلي عند باب المسجد إن وجد مكانا الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ادراك الفريضة ج١ ص٢٧٠، ط.س. ج٢ ص٥٦). ظفير

(٣) په پوښتنه کي چي کم اشکال دسنتو په ماتولو دی دهغه جواب دا ډول کيږي چي که چيري فرض مات کړي نو بيرته به يې دامام سره ادا کړي نو دهغو ابطال للاکمال سو او سنت داسي نه دي چي هغه پريږدي نو بيا به يې نه کوي بلکه فرض به کوي، نو دا ابطال للاکمال نه سو لهذا دنه ماتولو په صورت کي به سنت هم ادا سي او دفرضو فضيلت به هم حاصل کړي: والشارع في النفل لا يقطع مطلقا ويتمه ركعتين وكذا سنة الظهر وسنة الجمعة إذا أقيمت او خطب الإمام يتمها اربعا على القول الراجح لأنها صلوة واحدة وليس القطع للإكمال بل للإبطال خلافا لما رجحه الكمال (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٦٨، ط.س. ج٢ ص٥٣). ظفير

(٤) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الأذان ج١ ص٣٧١، ط.س. ج٢ ص٤٠٠. ظفير

په کمو وجوهو سره لمونځ ماتولای سي؟ سوال: (١٩٢١) انسان دکمو کمو عذرونو له امله دګناه پرته خپل لمونځ ماتولای سي؟

جواب: په درمختار باب ادراك الفريضه کي يې ددي تفصيل کړی دی ([1]) هغه وګورئ، اوکه چيري يوځانګړی صورت مخ ته راغلي وي نو دهغه سوال وکړئ، چي په داسي صورت کي لمونځ ماتول صحيح دي اوکه نه؟ په درمختارکي دا هم دي چي دډوبيدونکي او سوزيدونکي دژغورلو لپاره لمونځ ماتول واجب دي، اوکه ديوه درهم زيان وراوړي نو لمونځ ماتول روا دی واجب نه دي، او په شامي کي يې کليه قاعده دا ليکلي ده: إن القطع يکون حراما ومباحا ومستحبا وواجبا فالحرام لغير عذر والمباح إذا خاف فوت مال والمستحب القطع للإکمال والواجب لإحياء نفس. الخ ([2]) .

جمعه پرېښوول اوبل جومات ته ددي دپاره تلل چي پوره جمع ونيسم څنګه دي؟ سوال: (١٩٢٢) يو سړی جومات ته راغی جمعه ولاړه وه، نو دغه سړی په دي خيال باندي بل جومات ته ولاړی چي هلته به پوره جمعه ونيسم او يو سړی په وروستی قعده کي راغی او په ياد سوي خيال بل جومات ته ولاړی دا تلل جائز دي اوکه نه؟

جواب: په همدغه جومات کي په جمعه کي شريکيدل دهغوی لپاره غوره دي. ([3]) فقط

چي دسهار سنت دفرضو مخکي ونه کړل سي نو بيا هغه کله ادا کړي؟ سوال: (١٩٢٣) کم سړی چي دسهار په جمع کي شامل سو، او سنت يې ونه کړل هغه له فرضو وروسته سنت وکړي او که دلمر ختلو وروسته يې وکړي؟

جواب: دغه سړی دي دفرضو وروسته او دلمر ختلو څخه مخکي سنت نه کوي، ځکه چي دامکروه دي که يې کوي نو دلمر دختلو څخه وروسته دي دزوال څخه مخکي وکړي، دا غوره دي. کما في الشامي: وأما إذا فاتت وحدها فلا تقضي قبل طلوع الشمس بالإجماع

([1]) يقطعها لعذر احراز الجماعة کما لو ندت دابة او فار قدرها او خاف ضياع درهم من ماله او کان في النفل فجيئ بجنازة وخاف فوتها قطعه لامکان قضائه ويجب القطع لنحو انجاء غريق او حريق ولو دعاه ابويه في الفرض لا يجيبه إلا أن يستغيث به وفي النفل إن علم أنه في الصلاة فدعاه لا يجيبه إلا إجابة قائما لأن القعود مشروط للتحلل وهذا قطع لا تحلل ويکتفي بتسليمة واحدة هو الأصح. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٢٢، ط.س. ج٢ ص٥١). ظفير

([2]) ردالمحتار باب إدراك الفريضه ج١ ص٦٢٧، ط.س. ج٢ ص٥٢. ظفير

([3]) وکذا لو فاتت أحدهم تکبيرة الأفتتاح او رکعة او رکعتان ويمکنه إدراکها في غيره لا يذهب إليه لانه صار محرزا فضيلة الجماعة في مسجده فلايترك حقه (غنية المستملي فصل في احکام المسجد ص٥٢٥) وکره تحريما للنهی خروج من لم يصل من مسجد أذن فيه إلا لمن ينتظم به أمر جماعة أخری ولمن صلی الظهر والعشاء وحده مرة فلا يکره خروجه کل ترکه عند الشروع في الإقامة فيکره لمخالفة الجماعة بلا عذر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٢٨ - ٦٢٩، ط.س. ج٢ ص٥٤). ظفير

لكراهة النفل بعد الصبح وأما بعد طلوع الشمس فكذلك عندهما وقال محمد أحب أن يقضيها إلى الزوال ([1]) الخ شامي ج١ ص٤٨٢.

يو ركعت يې كړي وو چي دماپښين جمع ودريده ه نو دوهم ركعت دي وكړي او په جمع كي دي شريك سي: **سوال**: (۱۹۲۴) يو سړی دما پښين په مهال دجمعي څخه مخكي څلور ركعته كوي يو يا دوه ركعته يي كړي دي چي دفرضو جمع ودريده، نو دا سنت كوونكی به څه كوي، آيا دی به خپل لمونځ پوره كوي اوكه يي يو ركعت كړی وو دوهم به ورسره كوي او سلام به گرځوي اوكه يې دوه ركعته كړي وه نو څلور به پوره كوي، اوكه به په هرحال كي

څلور سره پوره كوي اوكه به يي په هرحال كي پريږدي اوپه جمع كي به گډون كوي؟

جواب: كه يي دسنتو يو ركعت كړی وو نو دوه ركعته دي پوره كړي، او سلام دي وگرځوي په جمع كي دي گډ سي؟ محققينو حنفيانو دي ته غوره او راجح ويلي دي، او بل قول چي هغه هم مفتی به دی په دي اړوند دادی چي په هرحال كي دي څلور ركعته سنت پوره كړي، ليكن محقق ابن همام لومړني قول ته راجح فرمايلي دي. كذا في الشامي ([2]). فقط

دبل جومات امام ددې جومات دجمع په پرېښودلو سره تللای سي اوكه نه؟ سوال: (۱۹۲۵) يو سړی جومات ته په داسي وخت كي راغی چي جمعه كيده دغه سړي اودس وكړی او ولاړی په جمع كي شريك نه سو كله چي دی دبل جومات پايبند لمونځ كوونكی دی يوائې دی امام دی همدی مقتدي همدی مؤذن دی، په دي صورت كي څه حكم دی؟

جواب: هغه ته همدغسي كول په كار وو، دهغه په حق كي ددي جومات څخه تلل او ددي جومات په جمع كي نه شريكيدل مكروهه نه دي. ([3])

([1]) رد المحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٧٢، ط.س. ج٢ ص٥٧. ظفير

([2]) والشارع في نفل لا يقطع مطلق ويتمه ركعتين وكذا سنة الظهر وسنة الجمعة إذا أقيمت او خطب الإمام يتمها اربعا على القول الراجح لأنها صلوة واحدة وليس القطع للإكمال بل للإبطال خلافا لما رجحه الكمال (درمختار) حيث قال وقيل يقطع على رأس الركعتين وهو الراجح لأنه يتمكن من قضائها بعض الفرض ولا إبطال في التسليمة على الركعتين فلا يفوت فرض الإستماع والأداء على الوجه الأكمل بلا سبب الخ (رد المحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٢٨، ط.س. ج٢ ص٥٣). ظفير

([3]) وكره تحريما للنهي خروج من لم يصل من مسجد اذن فيه إلا لمن ينتظم به أمر جماعة أخرى او كان الخروج لمسجد فيه ولم يصلوا فيه (درمختار) قوله إلا لمن ينتظم به أمر جماعة اخرى بان كان إماما او مؤذنا تتفرق الناس بغيبته الخ وظاهر الإطلاق أن له الخروج ولو عند الشروع في الإقامة (ردالمحتار باب إدارك الفريضة مطلب في كراهية الخروج من المسجد بعد الأذان ج١ ص٦٢٨، ط.س. ج٢ ص٥٤). ظفير

که دسنتو دپیلولو سره سم جمع ودریږي نوڅه به کوي؟ **سوال**: (١٩٢٦) يو سړى دجمع دريدو په وخت كي راسي اودسنتو نيت وكړي سمدستي اقامت وسي نوهغه په دوو ركعتوكي الحمد سورت او التحيات بالكل نه وايي، غالبا يوازي سبحان الله يا نور داسي څه به وايي، په هر حال سجده او ركوع وكړي سلام وګرځوي او دامام دالحمد دختميدلو مخكي په جمع كي شريك سي دومره زيات تيزوالى او تندي جائز ده او كه نه؟

جواب: په داسي وخت كي دا ضروري ده چي دوه ركعته وكړي، سلام وګرځوي او په جمع كي شريك سي اوكه چيري دجمعي دنيولو دپاره توندي او ګډون وكړي نو داهم وړ دي، ليكن دومره تيزوالى صحيح نه دى چي فرض قراءت او نور داسي مهم ركنونه پرېښودل سي. ([1])

که چیري څوک دنفلو په نیت سره دماسختن په جمع کي شریک سي نو آیا هغه به سنت او وتر هم بیا کوي؟ **سوال**: (١٩٢٧) يوڅوك چي دماسختن لمونځ اداكړي اوبيا ويني چي جمع ودريده نو په هغه كي هم ګډون وكړي اوس به دى سنت او وتر هم كوي؟

جواب: سنت او وتر دي نه كوي (هغه يې مخكي ادا كړي دي او دادنفلو په حكم كي دي. ظفير)

که دریل په خیال سره نیت مات کړي نوڅه حکم دی او امام ته دلنډولو ووایي اوکه نه؟

سوال: (١٩٢٨) يو سړى دنجيب آباد داستيشن جومات ته دجمعي په ورځ راغى، او امام ته يې وويل چي موږ ديوي نيمي بجي په ريل ګاډي كي تلونكي يو ته مهرباني وكوه خطبه لنډه ووايه اوپه لمانځه كي قراءت لږ ووايه چي لمونځ پيل سو نو يو ركعت په ښه ډول وسو او په دويم ركعت كي امام قراءت شروع كړى وو چي نوموړي سړي ته دريل دراتلو خيال پيدا سو دغه سړي نيت مات كړى او بهر راووتى او ستيشن ته ولاړى او نورو ملګرو يي په ډاډ سره لمونځونه پوره كړه او په ريل كي سپاره سول، دامام څخه دلږ قراءت او لنډي خطبي غوښتنه كول او نيت ماتول څنګه دي؟

جواب: په داسي حالت كي چي په مقتديانو كي چاته بي اطمناني او سخت حاجت وي، نو امام ته په قراءت او خطبه كي تخفيف كول ډير ښه او مناسب دي. په حديث شريف كي دي چي امام ته په لمانځه كي تخفيف كول ښايي ځكه چي ځيني مقتديان حاجت

([1]) والشارع في نفل لا يقطع مطلقا ويتمه ركعتين (درمختار) قوله مطلقا أى سواء قيد الأولى بسجدة اولا (ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٢٨) من فرائضها التى لاتصح بدونها التحريمة الخ ومنها القيام الخ ومنها القراءة الخ ومنها الركوع الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤١١، ط.س. ج٢ ص٤٤٢). ظفير

لرونكي وي، الحديث (١) نور دلمانځه دپيلولو وروسته دهغه دماتولو دا حكم دى چي كه چيري دڅلورو انو (څلور نيمو تولو سپينو زرو) نقصان كيدى يا كټو پرجوش راتله يا سپرلى تښتيده نو لمونځ ماتول صحيح دي، همدغه ډول كه دا رنګه بل څه نقصان او اړتيا پيښه سي، نو هم دلمانځه ماتول صحيح دي كذا في الدرالمختار. (٢)

دجمع په وخت كي دسهار پرسنتو باندي داعتراض جواب: **سوال**: (١٩٢٩) يو شخص اعتراض كوي چي حنفيان خلګ دسهار سنت سره له دې چي جمع ولاړه وي، ادا كوي، نو ددې څه جواب دى؟

جواب: دامام صاحب دمذهب موافق په حديث شريف اوقرآن كريم دواړو باندي عمل راځي په ځينو احاديثو كي دسهار پرسنتو ډير ټينګار راغلى، او دصحابه كرامو ﷺ عمل هم همداسي پاته سوى دى چي دفرضو دپيليدو وروسته هغوى سنت كړي دي او دسنتو دكولو وروسته په جمع كي شريك سوي دي، لكه څنګه چي دا ډول اثارپه كتابونوكي منقول دي، امام صاحب ﷺ په دي باندي عمل فرمايلى دى، بيا اعتراض او بد ويل فضول دي او غلطي ده. (٣) فقط

دماپښين څخه مخكي پاته سوي سنت به ترفرضو وروسته سمدستي كوي اوكه تر دوو ركعتو سنتو وروسته؟ **سوال**: (١٩٣٠) كم سړى چي دامام سره دماپښين په فرضوكي شريك سو اوسنت ورڅخه پاته سوه نودسنتو قضابه دفرضوسره پيوسته كوى اوكه ددوو ركعتو سنتو وروسته؟ كه په دي مسئله كي دفقهاؤ اختلاف وي نو غوره راجحه او اقوى ددوى په مينځ كي دچا خبره ده؟

جواب: كم سړى چي دماپښين په فرضوكي دامام سره شامل سو، نو څلور ركعته سنت دي مخكي وكړي او دوه ركعته وروسته ليكن فتح القدير ددي عكس ته ترجيح وركړي

---

(١) قال رسول الله ﷺ فأيكم ما صلى بالناس فليتجوز فإن فيهم الضعيف والكبير وذا الحاجة متفق عليه. (مشكوة باب ما على الإمام). ظفير

(٢) ويقطعها لعذر إحراز الجماعة الخ او خاف ضياع درهم من ماله (درمختار) ان القطع يكون حراما ومباحا ومستحبا وواجبا، فالحرام لغير عذر والمباح إذا خاف فوت مال (ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٦٢ – ٦٦٧، ط.س. ج٢ ص٥١). ظفير

(٣) عن عائشة رضي الله عنها قالت لم يكن النبي ﷺ على شيئ من النوافل أشد منه عاهدا على ركعتى الفجر رواه الشيخان وعنها عن النبى صلى الله عليه وسلم قال ركعتى الفجر خير من الدنيا وما فيها. رواه مسلم، (آثار السنن باب التطوع للصلوات الخمس) عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ لا تدعوا ركعتى الفجر ولو طردتكم الخيل. رواه احمد وابوداؤد وإسناده صحيح (ايضا باب في تاكيد ركعتى الفجر) إنما خالفناه في سنة الفجر لشدة تاكيدها الخ لما روى الطحاوي وغيره عن ابن مسعود ﷺ أنه دخل المسجد وقد قيمت الصلاة فصلى ركعتى الفجر في المسجد. ظفير

ده، نو لمونځ كوونكيي اختيار لري چي څنګه كوي هغه صحيح دي او دوه ركعته مخكي كول غوره دي، ثم يأتي بها في وقته قبل شفعه عند محمد وبه يفتى (درمختار) أقول وعليه المتون لكن رجح في الفتح تقديم الركعتين كذا في الشامي. (١)

چي دسهار دسنتو دشروع كولو وروسته اقامت وسي نو څه به كوي؟ سوال: (١٩٣١) يوه سړي دسهار سنت پيل كړل، ناڅاپه مؤذن تكبير شروع كړی او دفرضو جمع ودريده نو داسړی نيت مات كړي اوپه جمع كي ګډ سي او كه سنت پوره كړي بيا په جمعه كي شامل سي؟

جواب: دسنتو دادا كولو وروسته دي په جمعه كي شريك سي. (٢)

څوک چي دسنتو پرته دسهار په جمع كي شريک سي هغه دي په همدغه وخت كي سنت نه كوي: سوال: (١٩٣٢) يوه سړي دسهار سنت ونه كړل په جمع كي ګډ سو نو دجمعي وروسته سمدستي سنت وكړي او كه دلمر دراختلو وروسته؟

جواب: دفرضو وروسته دي په همدغه وخت كي سنت نه كوي، بلكه دلمر راختلو او لوېدلو څخه وروسته كه يې كول غواړي نو ودي كړي. قال في الشامي واما إذا فاتت وحدها تقضي قبل طلوع الشمس بالإجماع لكراهة النفل بعد الصبح وأما بعد طلوع الشمس فكذلك عندهما وقال محمد أحبّ إلي أن يقضيها إلى الزوال. (٣) الخ فقط

دجمع په مهال دي دسهار سنت دجومات څخه بهر وكړي: سوال: (١٩٣٣) په يوه جومات كي دشپږو صفونو ځای دی نو دسهار سنت كم ځای كول ښايي چي جمعه ولاړه وي؟

جواب: غوره دا ده چي دسهار سنت په بيل ځای كي دجومات څخه بهر وكړي، اوكه داسي ځای نه وي نوكه جمع دجومات په داخلي برخه كي ولاړه وي نو سنت دي بهر وكړي اوكه جمعه بهر ولاړه وي نو دننه دي وكړي او دمجبوري په مهال داسي هم كولای سي چي په شاته صفونو كي سنت وكړي په هر حال دسنتو پرېښودل نه ښايي ترڅو پوري چي دجمع يوه برخه نيول كيدای سي. (٤)

---

(١) ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٧٣، ط.س. ج٢ ص٥٨. إلى أسطوانة وذلك بمحضر حذيفة وأبي موسى الخ غنية المستملي ص٣٧٩. ظفير

(٢) والشارع في نفل لا يقطع وكذا سنة الظهر الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج١ ص٦٢٨، باب إدارك الفريضة، ط.س. ج٢ ص٥٣. ظفير

(٣) رد المحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٧٢، ط.س. ج٢ ص٥٧. ظفير

(٤) وإذا خاف فوت ركعتي الفجر لإشتغاله بسنتها تركها لكون الجماعة أكمل وإلا بأن رجا إدراك ركعة لا يتركها بل يصليها عند باب المسجد إن وجد مكانا وإلا تركها، لأن ترك المكروه مقدم على فعل السنة (درمختار) قوله وإلا تركها قال في الفتح وعلى هذا أي على كراهة صلوتها في المسجد ينبغي أن لا يصلي فيه إذا لم يكن عند =

دجمعي په وخت کي دسهار سنت: **سوال**: (۱۹۳۴) دسهار په سنتوکي چي کله تکبير وسي او امام قراءت شروع کړي په شرح وقايه کي ليکلي دي چي که دامام سره درکعت دنيولو أميد وي نوسنت دي نه پريږدي داخبره صحيح ده اوکه نه؟ او ځيني ملايان دا هم وايي چي کله امام قرائت پيل کړي نو سنت کول حرام دي، ترکمه ځايه پوري چي دامام اواز رسيږي او دا راته وښياست چي که يوه سړي دعذره پرته او ددي سره سره چي که سنت وکړي دجمعي ديوه رکعت دنيولو اميد سته سنت پرېښودل او په جمع کي شريك سو نو هغه گنهگار دی او که نه؟

جواب: لکه څنگه چي په شرح وقايه کي ليکلي دي همدغه ډول دفقهي په نورو کتابونوکي هم ليکلي دي بلکه په درمختار اوشامي کي يي دا تحقيق کړی دی چي که دامام سره التحيات نيول کيږي هم سنت دي نه پريږدي، خو دا خبره ضروري ده چي دجمع سره برابر ياپه کم ځای کي چي جمع دريږي هلته دي سنت نه کوي ځکه چي دا مکروه دي او په حديث شريف کي ددي څخه ممانعت راغلی دی او حنفي عالمانو دا په ډاگه کړيده چي دجومات ددروازې سره يا په يوه برنډه ياحجره کي دي سنت وکړي او په جمع کي دي شامل سي دامام او جمع په خوا کي دي سنت نه کوي دإمام دقراءت اواز راتلل دسنتو دکولو څخه مانع نه دي داواز راتلل او نه راتلل فقهاؤ دسنتو په کيدلو او نه کيدلو کي نه دي مطرح کړي (۱) اوکله چي دسهار پرسنتو ټينگار ډير راغلی دی، ځکه نو دځانته ځای دسته والي سره سره سنت پريښودل بد دي، ځکه چي کله په شريعت کي دا ثابت دي چي دجمع په مهال په ځانته ځای کي سنت کول منع نه دي نو بيا دوجهي پرته سنت پريښودل به ښه نه وي. فقط

= بابه مكان لأن ترك المكروه مقدم على فعل السنة غير أن الكراهة تتفاوت فإن كان الإمام في الصيفي فصلوته إياها في الشتوي أخف من صلوتها في الصيفى وعكسه، وأشد ما يكون كراهة أن يصليها مخالفا للصف كما يفعله كثيرا من الجهلة آهـ والحاصل أن السنة في سنة الفجر أن يأتى بها في بيته وإلا فان كان عند باب المسجد مكان صلاها فيه وإلا صلاها في الشتوي او الصيفي إن كان للمسجد موضعان و إلا فخلف الصفوف عند سارية لكن فيما إذا كان للمسجد موضعان والإمام في أحدهما ذكر في المحيط أنه قيل لا يكره لعدم مخالفة القوم وقيل يكره لأنهما كمكان واحد قال فإذا إختلف المشائخ فيه فالأفضل أن لا يفعل قال في النهر وفيه أفاد أنها تنزيهية اهـ لكن في الحلية قلت وعدم الكراهة أوجه للأثار التى ذكرناها اهـ ثم هذا كله إذا كان الإمام في الصلوة أما قبل الشروع فيأتي في أي موضع شاء (ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج۱ ص۲۷۱، ط.س. ج۲ ص۵۲). ظفير

(۱) إذا خافت فوت ركعتى الفجر لإشتغاله بسنتها تركها لكون الجماعة أكمل وإلا بأن رجا إدراك ركعة في ظاهر الرواية وقيل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالي تبعا للبحر لكن ضعفه في النهر لا يتركها بل يصليها عند باب المسجد ان وجد مكانا وإلا تركها (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج۱ ص۲۷۰ – ۲۷۱، ط.س. ج۲ ص۵۲). ظفير

دجمع په وخت کي رارسيدونکی به څه کوي؟ **سوال**: (۱۹۳۵) جمع ولاړه وه دوروسته څخه مقتدي داخل سوکه چيري امام په اخري سجده يا التحيات کي وي نو ده ته په جمع کي ګډون کول ضروري دی او که اختياري، اوکه چيري دسهار وخت وي نو په داسي صورت کي به څه کوي؟

جواب: که دسهار جمع وي اوکه دبل وخت په جمع کي دي شامل سي. (١)

دسهار دجمعي په مهال سنت: **سوال**: (۱۹۳۶) امام دسهار لمونځ په لوړ اواز سره کوي، که يو څوك دجومات په حجره کي يا دانګړ په حجره کي دسهار سنت ادا کړي ليکن دامام دقراءت آواز دده غوږونو ته په ښه ډول رسيږي، او داسړی په دي پوهيږي چي زه دسنتو له کولو وروسته په جمع کي ګډون کولای سم په دي حالت کي سنت کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: په حجره کي په داسي حالت کي دسهار سنت کول پکاردي په دي کي څه ستونزه نسته، چي دامام دقراءت اواز دده غوږونو ته رسيږي البته داناجايز دي چي په همدغه درجه کي سنت کوي په کمه کي چي امام روان دی فرض لمونځ کوي: ودليله ما قال في الشامي والحاصل أن السنة في سنة الفجر أن يأتی بها في بيته وإلا فان كان عند باب المسجد مكان صلاها فيه وإلا صلاها في الشتوي والصيفي إن كان للمسجد موضعان وإلا فخلف الصفوف عنه سارية وايضا قال وينبغي أن لا يصلي فيه إذا لم يكن عند بابه مكان الخ ج١ ص٢٧١.

که جمعه ولاړه وي نو دسهار سنت کله وکړي؟ **سوال**: (۱۹۳۷) که چيري دسهار جمع ولاړه وي نوسنت وکړي اوکه په جمعه کي شريك سي که چيري په جمع کي شريك سي نو سنت دلمانځه څخه وروسته ادا کړي اوکه دلمر دراختلو وروسته؟

جواب: که چيري دجومات څخه ځانته ځای وي نو دجمع دپيليدو وروسته دي هلته سنت ادا کړي ځکه چي پردي سنتو ډير تتتينګار راغلی دی په دي شرط چي په جمع کي دګډون هيله وي اوکه چيري دسهار سنت ورڅخه پاته سوه نو دلمر ترراختلو وروسته دي وکړي اوچي دخپل وخت څخه تيرسي نوسنتِ مؤکده مؤکده نه پاته کيږي خودلمر ترراختلو وروسته کول يې غوره دي (٢) هکذا في كتب الفقه. کتبہ رشید احمد عفی عنہ تاریخ ١٦-١٢-١٣٢٩ ہجری. فقط

---

(١) ولا يكون مصليا جماعة اتفاقا من أدرك ركعة من ذوات الأربع الخ لكنه أدرك فضلها ولو بادراك التشهد اتفاقا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٧٣، ط. س. ج٢ ص٥٩). ظفير

(٢) أما إذا فاتت وحدها فلا تقضى قبل طلوع الشمس بالإجماع لكراهة النفل بعد الصبح وأما بعد طلوع الشمس فكذلك عندهما وقال محمد احب إلى أن يقضيها إلى الزوال كما في الدر وقيل هذا قريب من الإتفاق لأن قوله

لسم باب

دفوت سوو لمونځونو دقضايي راوړلو په بيان کي

دقضا لمونځونو ادا کول

دوخت دتنګوالي يا هيري له امله وختي لمونځ دقضايي لمانځه څخه مخکي کولای سي اوکه نه؟ سوال: (۱۹۳۸) که ديوه سړي څخه دماپښين لمونځ قضا سو او هغه دمازديګر جومات ته په داسي وخت کي ورسيدی چي اقامت کيدی يا وخت بالکل تنګ دی يا دمازديګر وخت ډير دی خو ددغه سړي څخه هير سو چي کله يې دمازديګر لمونځ وکړی نو ورپه زړه سوه چي زما څخه خو دماپښين لمونځ قضا سوی دی. په دي صورت کي دماپښين قضا دمازديګر دلمانځه وروسته کولای سي اوکه نه؟ او همدا ډول چي کله دسهار جمع ولاړه وي نو دسهار سنت کول پکار دي اوکه په جمع کي ګډون کول که په جمعه کي ګډون وکړي نو ددي سنتو قضا څه وخت راوړل کيږي؟

جواب: که ورڅخه هير سو يا وخت دومره تنګ وو چي که دماپښين قضا راګرځوي دمازديګر لمونځ قضا کيږي، نوپه دي صورت کي دمازديګر لمونځ صحيح سو دماپښين دابه وروسته وکړي ([1]) اوکه چيري اقامت شروع سو، او دماپښين دلمانځه دکولو په صورت کي دمازديګر جمع ورڅخه تيريدله، نو دماپښين دا دي مخکي وکړي، او دمازديګر دا دي وروسته اګرکه جمع ورڅخه تيره سي، او دسهار لمونځ که تيار وي يا جمع ولاړه وي، نوکه يې ديوه رکعت يا دځينو فقهاؤ په قول دتشهد دنيولو اميد درلودی نو دسهار سنت دي مخکي وکړي اوپه جمعه کي دي شريك سي ([2]) اوکه يې سنت بالکل پريږښودل اوپه جمع کي شريك سو نوبيا دسنتو قضانسته که يې کوي نو دلمر ترلوړيدو وروسته دي وکړي، دا به نفل سي. ([3]) فقط

احب إلي دليل على أنه لو لم يفعل لا لوم عليه وقالا لا يقضي وإن قضى فلا بأس به (إلى أن قال) في انه لو قضى كان نفلاً الخ ج۱ ص۲۷۲، ط.س. ج۲ ص۵۷. ظفير

([1]) الإستثناء من اللزوم فلا يلزم الترتيب إذا أضاق الوقت المستحب حقيقة إذ ليس من الحكمة تفويت الوقتية لتدارك الفائتة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوآئت ج۱ ص۲۸۰ – ۲۸۱، ط.س. ج۲ ص۵۲). ظفير

([2]) وإذا خاف فوت ركعتي الفجر لإشتغاله بسننها تركها لكون الجماعة أكمل وإلا بأن رجا إدراك ركعة في ظاهر المذهب وقيل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالي تبعا للبحر (ايضا باب إدراك الفريضة ج۱ ص۲۷۵، ط.س. ج۲ ص۵۲). ظفير

([3]) ولا يقضيها إلا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لا بعده (درمختار) واما لو إذا فاتت وحدها فلا تقضى قبل طلوع الشمس بالإجماع لكراهة النفل بعد الصبح واما بعد طلوع الشمس فكذلك عندنا ؒ (رد =

دقضا سوي لمانځه سبب: **سوال**: (۱۹۳۹) په قضا سوي لمانځه کي سبب دټول وخت لوري ته منسوب کيږي تر څو واجب علی صفات الکمال ثابت سي، زما دغبي والي له برکته مي ددي مقصد په ذهن کي نه راغی سبب څه شی دی، او جميع وقت ته دهغه دمنسوب کيدلو څه معنی ده په ادا کي وجوب علی صفة الکمال کيدل نه دي پکار، او په فائته ؤ کي کيدل په کار دي ددي څه وجه ده؟

جواب: په وخت کي په ادا کولو سره په وجه دتعذر جميع وخت ته سبب نه سو ويلای، بلکه جزء مقدم متصل بالأدا ته سبب ويل کيږي اوکله چي وخت تير سو، او لمونځ فوت سو نو اوس ټول وخت ته په سبب ويلوکي څه مشکل پاته نه سو او دلمانځه ظاهري سبب وخت دی ځکه چي کله وخت راسي نو دلمانځه دکولو حکم کيږي، همدا معنی دسببيت ده، مثلا کله چي دماپښين وخت راسي صلُّوا صلوة الظهر (متوجه سئ) وقس عليه.

دلمانځه او روژې قضا: **سوال**: (۱۹۴۰) لمونځ او روژي ورځخه قضا سوي؟ دا ځرګنده نه ده چي دڅومره مودي څخه قضا سوي دي نو دادا کولو صورت يي څنګه دی؟

جواب: شمار دي وکړي چي دڅومره مودي دروژو او دلمونځونو شميره ورته معلومه سوه دهغو قضايي دي راوړي.

دقضا سوو لمونځونو قضا راګرځول: **سوال**: (۱۹۴۱) دزيد پرغاړه تقريبا ددوولسو ديارلسو کالو لمونځونو او روژو قضا پاته ده چي هغه دپوهيدني سره سره نه دي کړي اوس هغه قضا سوي لمونځونه اوروژي ادا کول غواړي نوپه کمي طريقې سره يې ادا کړي؟

جواب: دلمانځه او روژی قضا دي راوګرځوي په شمار سره چي دڅومره کلونو لمونځونه او روژی يې دبلوغ څخه وروسته قضا سوي دي هغه دي ادا کړي. فقط

دقصر لمانځه ادا به قصر وي؟ **سوال**: (۱۹۴۲) دلنډ قضا سوي لمانځه ادا لنډه پکار ده اوکه مکمله؟

جواب: دقصر لمانځه قضا قصر راوړل پکار دي. ([1])

ايا دقضا لمونځ په جومات کي کول صحيح دي؟ **سوال**: (۱۹۴۳) يوعالم فرمايي چي په جومات کي قضا لمونځونه کول حرام دي، او دليل يي دادی چي لمونځ قضا کول معصيت دی، اودمعصيت ښکاره کول حرام دي اوپه جومات کي يي اظهار کيږي په کور

= المحتار ايضا، ط.س. ج۲ ص۵۷). ظفير

([1]) والقضاء يحكي أي يشابه الأداء سفرا وحضرا لأنه بعد ما تقرر لا يتغير (درمختار) قوله سفرا وحضرا اى لو فاتته صلوة السفر وقضا في الحضر يقضيها مقصودة كما لو أداها (رد المحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۵، ط.س. ج۲ ص۱۳۵). ظفير

کی یي کول ښايي، دا خبره څنګه ده؟

جواب: په درمختنا کي يې په جومات کي دقضا سوو لمونځونو را ګرځول مکروه ليکلي دي، يعني مکروه تحريمي دي، او دليل يي همدا دی چي لمونځ تروخت وروسته کول معصيت دی؟ نوځکه دي دا نه ظاهروی، او علامه شامي ددي په اړوند دا ليکلي دي چي غرض همدا دی چي اظهار دي نه کوي، بلکه په داسي ډول دي قضا راوګرځوي چي څوك ورڅخه خبر نه سي، چي دی نفلونه کوي او که فرض؟ نو په جومات کي هم درست دي، لنډه دا چي قضا دي په داسي ډول وکړي چي تر خپله وسه څوك ورڅخه پوه نه سي، دشامي عبارت دادی: وظاهره أن الممنوع هو القضاء مع الإطلاع عليه سواء كان في المسجد او غيره. ([1]) فقط

دقضاء عمري مروجه طريقه ثابته نه ده بي بنسټه ده: **سوال**: (١٩٤٤) په يوه اردو کتاب کي ليکلي دي چي دقضاء عمري دکفاري لپاره لمونځ په داسي طريقه ادا کول پکار دي چي په هر رکعت کي دي آية الكرسي يو يو ځل او سورت کوثر يوولس يوولس ځله دسورت فاتحي څخه وروسته ووايي دا جائز دي اوکه مکروه او په همدي طريقه يي دنورو لمونځونو په هکله هم څو څو سورتونه دمختلفو مقاماتو په هر رکعت کي دلوستلو لپاره ليکلي دي.

جواب: ددي هيڅ اصل نسته او په دې طريقه نفل کولو سره قضاء عمري نه حاصليږي، اول خو په خپله دقضاء عمري هيڅ بنسټ نسته بلکه فقهاؤ دامکروه ليکلي ده او بيا په دي هيئت او کيفيت سره لمونځ کول دقضاء عمري دپاره ثابت نه دي، اودقضاء دا طريقه دشرعي قواعدو سره سمون نه لري، قاعده داسي ده چي څومره لمونځونه دچا څخه قضا سوی وي نوپه يقين يا غالب ګمان سره دي دهغو شمير معلوم او قضايي دي راوړي او يوازي دتوهم په بنا دقضايي راګرځول ثابت نه دي بلکه مکروه دي، په شامي کي يي ددرمختار پردې قول باندي چي: وما نقل أن الإمام قضى صلوة عمر الخ ليکلي دی: أنه لم يصح ذلك عن الإمام الخ فالوجه كراهة القضاء لتوهم الفساد ([2]) الخ ص٤٢٩.

داسقاط حيله: **سوال**: (١٩٤٥) اسقاط يعني حيله لټول چي دجنازې دلمانځه مخکي يا وروسته ورکول کيږي، دا دمړي پروارثانو واجبه ده اوکه نه؟ هغه حيله په دي ډول ده چي: غنم يومن او دوولس نيم سيره او نغدي پيسي لږ تر لږه پاؤ باندي يوه روپۍ او قرآن مجيد وي، او غرض دحيله کوونکو داوي چي دا دمړي دټولو قضا سوو لمونځونو روژو

([1]) رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٤٩٠، ط.س. ج٢ ص٧٧. ظفير

([2]) رد المحتار باب الوتر والنوافل قبيل مطلب في الصلوة على الدابة ج١ ص٦٥٣، ط.س. ج٢ ص٣٨. ظفير

اوحج کفاره ګرځي، اودا ټول دجنازې لمونځ کوونکو ته ورکوي او حیله کوونکي کښیني اوپه لاس کي قرآن شریف واخلي او یوه لویه دعا ووايي او وايي چي موږ قبوله کړه؟

جواب: یاده سوي داسقاط حیلة دمړي پروارثانو باندي واجبه نه ده، او داسي وصیت هم فقهاؤ جائز نه دی ګڼلی، قال في الدر المختار ونص علیه في تبیین المحارم فقال لا یجب علی الولي فعل الدور وإن أوصی به المیت لأنها وصیة بالتبرع والواجب علی المیت أن یوصی بما یفی بما علیه إن لم یضیق الثلث عنه فان أوصی بأقل وأمر بالدور وترك بقیة الثلاث للورثة أو تبرع به لغیرهم فقد أثم بترك ما وجب علیهم. فقط. ([1])

دترتیب ښبنتن به قضا سوی لمونځونه کوی، اګرکه جمع ورڅخه ولاړه سي: سوال: (۱۹۴۶) که چیري دترتیب ښبنتن جومات ته راسي او مخکي جمع ولاړه وي نو څه وکړي ایا سمدستي په جمع کي ګډون وکړي اوکه دقضا سوي لمانځه دراګرځولو وروسته په جمع کي ګډون وکړي؟

جواب: دترتیب ښبنتن دي خپل قضا سوی لمونځ مخکي وکړي اګر که جمعه ورڅخه تیره سي ([2]). فقط

دچا څخه چي لمونځونه قضا سوي وي هغه به لمونځونه په کم ترتیب سره کوي؟ سوال: (۱۹۴۷) دیوه سړي پرذمه څو قضا سوي لمونځونه دي، اوس هغه ته دسهار دلمانځه ادا میسره نه سوه، بلکه ورڅخه قضا سو اوس دی لومړی دسهار لمونځ وکړي او که نور قضا سوي لمونځونه؟

جواب: که چیري مخکني قضا سوی لمونځونه شپږ یا دشپږو څخه ډیر وي نو په دي سره ترتیب ساقط سو دغه سړی دسهارقضا سوی لمونځ تر نورو قضا سوو لمونځونو مخکي کولای سي. ([3])

دچا څخه چي ډیر لمونځونه قضا سوي وي هغه به یې څنګه ادا کوي؟ سوال: (۱۹۴۸) که دیوه سړي څخه بې انتها لمونځونه قضا سوي وي چي شمیره یې هغه ته معلومه نه وي، اوس چي دغه سړی دفوت سوو لمونځونو ادا کول وغواړي په دي صورت کي که چیري

([1]) ردالمحتار باب قضاء الفوائت مطلب في إسقاط الصلوة عن المیت، ج۱ ص۲۸۲، ط.س. ج۲ ص۷۳. ظفیر

([2]) الترتیب بین الفرائض الخمسة والوتر اداءاً وقضاءاً لازم الخ فلم یجز فجر من تذکر انه لم یوتر الخ الا اذا اضاق الوقت الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج۱ ص۲۷۹، ط.س. ج۲ ص۶۵). ظفیر

([3]) الترتیب الخ لازم الخ الا اذا اضاق الوقت الخ او نسیت الفائتة الخ او فاتت ستة واعتقادیة (درمختار) یعني لا یلزم الترتیب بین الفائتة والوقتیة ولا بین الفوائت اذا کانت الفوائت ستا (ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج۱ ص۲۷۹ – ۲۸۰، ط.س. ج۲ ص۶۵). ظفیر

هغه دتحری (فکر کولو) په مټ سره یوه شمیره وټاکي نو آیا دا به په ترتیب سره ادا کوي اوکه به دترتیب اړتیا نه وي که چیري یي په یوه وخت کي دیوي ورځي پنځه واړه لمونځونه ادا کړل، نوجائز به وي اوکه نه؟ یعنی دسهار له وختي لمانځه څخه وروسته پنځه لمونځونه چي فوت سوي دي په همدغه وخت کي ادا کول غواړي، نو دا صورت به روا وي اوکه نه؟

جواب: دتحری کولو څخه وروسته چي دځومره کلونو او میاشتو فوت سوي لمونځونه په فکر کي راسي دهغو قضایي راوړل دي شروع کړي او دقضا په مهال دي په زړه کي نیت اویا دي په زړه هم ووایي چي تر ټولو دلومړنی ماپښین یا مازدیګر اونورو قضا را ګرځوم، همدغه ډول دي بیا په بل وخت کي هم نیت وکړي، ځکه داولنیو لمونځونو دقضا له راګرځولو وروسته چي کم لمونځونه قضا سوي هغه به لومړني جوړ سي، او کم صورت چي په سوال کي لیکلی دی چي دیوي ورځي ټول لمونځونه په یوه وخت کي کول غواړي نو دا صحیح دي. فقط

دچا څخه چي دیوه کال لمونځونه قضا سي پر هغه باندي ترتیب لازم نه دي: **سوال**: (۱۹۴۹)

دیوه سړي پرذمه دمثال په ډول دیوه کال لمونځونه قضا پاته دي، ددي لمونځونو دقضا په راګرځولو کي دی ترتیب ته اړتیا لري اوکه نه؟ یعني په ترتیب سره به قضا لمونځونه راګرځوي اوکه بې ترتیبه چي څنګه یي پرزړه سمه سي، او کله چي دټول کال قضا راوګرځوي نو صاحب ترتیب به سي اوکه نه؟ او که یي یو څو ورځي قضایي لمونځونه کول او بیا یي پریښودل بیا به یې داول څخه شروع کوي اوکه پاته لمونځونه به راګرځوي، په مینځ کي په پریښودلو سره خو به ستونزه نه راځي؟

جواب: په قضا راګرځولو کي په ده باندي څه ترتیب لازم نه دی چي څرنګه وغواړي لمونځ دي راوګرځوي (۱) اوکم وخت چي ټول قضا سوي لمونځونه ادا کړی نو دترتیب څښتن به سي بلکه هغه وخت چي دقضا په دوران کي تر شپږو لمونځونو کم مثلاً پنځه لمونځونه دده پرذمه پاته سي نودی ترتیب څښتن سي او ترتیب به ورباندي واجب سي اوچي څومره قضا لمونځونه یي راوګرځول هغه وسول، اوکه یي په مینځ کي قضا راګرځول پرېښودل او بیا یي شروع کړل نو هغه لمونځونه چي دمخکنۍ قضا څخه پاته دي یواځي دهغو راګرځول لازم دي. فقط (۲)

(۱) ویلزم الترتیب الخ إلا إذا أضاق الوقت الخ او فاتت ستة اعتقادية (درمختار) یعني لایلزم الترتیب بین الفائتة والوقتیة ولا بین الفوائت إذا كانت الفوائت ستا ﷺ (ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج۱ ص۲۸۰، ط.س. ج۲ ص۲۲). ظ

(۲) ولایعود لزوم الترتیب بعد سقوطه بكثرتها الفوائت بعود الفوائت إلى القلة بسبب القضاء لبعضها على =

څو شپې يې مسافرانه لمونځ کوی بیا معلومه سوه چې مسافر نه وو نوځه وکړي؟ سوال: (١٩٥٠) يوه سړي په دي خيال چي زه مسافر يم دوه يا دری مياشتي مسافرانه لمونځ وکړی، وروسته ورته معلومه سوه چي دی په اصل کي مسافر نه وو، نو ايا اوس پرده باندي ددغو لمونځونو قضا راگرځول ضروري دي؟ که ضروري وي نو په کمي طريقي سره؟

جواب: ددغو لمونځونو قضا راگرځول ضروري دي او دقضا طريقه پيژندل سوي ده، مثلاً دڅومره ورځو لمونځ چي يي مسافرانه کړی دی هغه دي وشماري او دهغو ټولو لمونځونو سره دي دوترو قضاهم راوگرځوي اودسنتو قضا نسته. (١)

كه چيري په وخت كي دټولو قضا سوو په ترتيب سره دراگرځولو گنجايش نه وي نوځه وكړي؟ سوال: (١٩٥١) كه چيري دسهار په وخت كي دومره گنجايش نه وي، چي دترتيب څښتن پنځه قضا سوي لمونځونه على الترتيب را وگرځوي نو يوازي يو يا دوه لمونځونه پروختي لمانځه مخكي كړي اوكه ټول پريږدي؟

جواب: چي څومره گنجايش وي هغه دي راوگرځوي، بيا چي كله يوازي دوختي لمانځه لپاره وخت پاته سي نو هغه دي وكړي، ځكه چي دوخت په تنگوالي سره هم ترتيب ساقطيږي، لكه څنگه چي دفقهي په كتابونو كي په تفصيلي ډول ذكر دي. (٢) فقط

په قضا كي دترتيب مطلب څه دی؟ سوال: (١٩٥٢) دا خبره چي پرژبو راځي چي دترتيب دڅښتن لپاره دفوائتو او وقتيه لمونځونو په مينځ كي ترتيب لازمي دی ددي مطلب څه دی؟

= المعتمد لأن الساقط لايعود وكذا لايعود الترتيب بعد سقوطه بباقي المسقطات السابقة (درمختار) قوله سبب القضاء كما إذا ترك رجل صلوة شهر مثلا ثم قضاها إلا صلوة ثم صلى الوقتية ذاكرا لها فانها صحيحة آهـ بحر، قيد بقضاء البعض لأنه لو قضا الكل عاد الترتيب عند الكل قوله المعتمد هو أصح الروايتين وصححه ايضا في الكافي والمحيط والمعراج وغيره وعليه الفتوى وقيل يعود الترتيب واختاره في الهداية ورده في الكافي والتبيين وأطال فيه في البحر (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٤، ط.س. ج٢ ص٧٠). ظفير

(١) كله چي لمونځ ونسو نو ټول په قضا كي شمار سوه، اوپه دي خبره پريكړه سوي چي: قضاء الفرائض الخ فرض (درمختار). ظفير

(٢) فلا يلزم الترتيب إذا ضاق الوقت المستحب حقيقة إذ ليس من الحكمة تفويت الوقتية لتدارك الفائتة ولولم يسع كل الفوائت فالأصح جواز الوقتية (درمختار) صورته عليه العشاء والوتر مثلا لم يصل الفجر حتى بقى من الوقت ما يسع الوتر وفرض الصبح فقط ولم يسع الصلوات الثلاث فظاهر كلامهم ترجيح أنه لا تجوز صلوة الصبح ما لم يصل الوتر وصرح في المجتبى بأن الأصح جواز الوقتية عن البحر لكن قال الرحمتي الذي رأيته في المجتبى الأصح أنه لاتجوز الوقتية اهـ قلت: راجعت المجتبى فرأيت فية مثل ما عزاه إليه في البحر وكذا قال القهستاني جازت وقتية على الأصح (ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفير

جواب: ددي مطلب دادی چي که چيري فوت سوي لمونځونه دوقتيه څخه مخکي ادا نه کړي او دفوائتو دقضا څخه مخکي وقتيه لمونځ ادا کړي، دا وقتيه لمونځ به فاسد سي، بفساد موقف کما هو مفصل في کتب الفقه. ([1]) فقط

دقضايي لمونځونو دراګرځولو سمه طريقه: **سوال**: (**١٩٥٣**) کم سړی چي عمري قضايي لمونځونه په ترتيب سره کوي هغه ته دماښام او وترو لمونځونه په قضا کي څلور رکعتونه په دريو قعدو سره په کم حالت کي کول په کار دی اوپه دريو رکعتونوکي يې ولي کول نه ښايي، په برهان الفتاوی کي دي: يصليها اربعا بثلاث قعدات، لکراهة تنفل ثلاث رکعات في القنية رکن الدين إنحراف يصلي المغرب والوتر اربعا بثلاث قعدات. ددی عبارت مطلب څه دی؟

جواب: صحيح مذهب دادی چي دچا پر ذمه قضايي لمونځونه وي هغه دي دهغو شميره معلومه کړي اوبيا دي قضايي راوګرځوي او دماښام دري رکعته دی دقاعدی سره سم وکړی، او وتر دي هم دری رکعته دقاعدی سره موافق وکړي، او دغه صورت چي دبرهان الفتاوی څخه نقل سوی دی دقواعدو موافق نه دی، او نور ددي عبارت مطلب داسي دی چي دری قعدي دي په داسي ډول وکړي چي تردوو رکعتو وروسته دي يوه قعده وکړي بيا دي ددريم رکعت څخه وروسته بيا قعده وکړي ترڅو اخري قعده پاته نه سي، او دنفلو دشبهي دامله دي يو رکعت بل ورسره يو ځای کړي، او دريمه قعده دي وکړي، په دې ډول به دری قعدي وسي ([2]) ليکن صحيح داده چي ددي ضرورت نسته کله چي

([1]) ولو فاتته صلوة رتبها في القضاء کما وجبت في الأصل الخ من صلی العصر وهو ذاکر أنه لم يصل الظهر فهي فاسدة إلا إذا کان في آخر الوقت وإذا فسدت الفريضة لا يبطل أصل الصلوة عند ابي حنيفة وابي يوسف الخ ثم العصر يفسد فسادا موقوفا حتی لو صلی ست صلوات ولم يعد الظهر إنقلب الکل جائزا الخ (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٧ – ١٣٩). ظفير

([2]) پوښتونکي چي دکم عبارت مطب پوښتلی دی هغه دتوهم اوشبهي لرونکي صورت حل دی، مثلا چاته دقضا يا فاسدوالي علم نسته بلکه يوازي شبهه يې ده نو په داسي حالت کي ښايي خو داچي هغه دي دوباره نه کوي: ولا تعاد عند توهم الفساد للنهی، او نه ددي دقضا ضرورت سته ليکن که چيري څوك دشبهې پربنا باندی په دې ډول قضا راګرځوي چي که چيري قضا سوي وي نوهغه به ادا سي کنې هغه به نفل سي، نو په دې صورت کي به دوترو اودماښام دلمانځه دادا کولو شکل داوي چي څلور رکعته به په درو قعدو سره کوي ځکه چي نفل دری رکعته نه وي دويمه قعده يې ددی لپاره وکړه چي دا دماښام او وترو لپاره اخري قعده ده او څلورم رکعت يې ورسره يو ځای کړی اودريمه قعده يې ددي لپاره وکړه چي که چيري په نفلوکي شمار سي نو صحيح به سي: لاتعاد عند توهم الفساد للنهی وما نقل ان الإمام قضی صلوة عمره فان صح تقول کان يصلي المغرب والوتر اربعا بثلاث (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل قبيل مطلب في الصلوة علی الدابة ج١ ص٢٥٣، ط.س. ج٢ ص٣٧). ظفير

واقعي دده پرذمه دمابنام فوت سوی لمونځ او فوت سوي وتر باقي وي نو دری رکعته دي په دوو قاعدو سره وکړي.

يوازې په توبې سره قضايي لمونځونه نه بخښل کيږي راګرځول يې ضروري دي: **سوال**: (١٩٥٤) زما عمر اوس پنځوس كاله دی دوه نيم كاله وسوه چې ما فرض حج ادا کړی دی، دحج دکولو څخه مخکې زه دلمونځ پابند نه وم دهغه وخت څخه مې توبه ايستيلې ده او لمونځ ادا کوم نو ايا دتوبې په ايستلو سره زما مخکني لمونځونه وبخښل سول او که نه؟

جواب: کم لمونځونه چې قضا سوي دي دهغو راګرځول فرض دي او دهغې طريقه داده چې ديوي يوي ورځې لمونځ دي په ترتيب راګرځوي، او نيت دي داسي وکړي چې دسهار هغه اولنی لمونځ ادا کوم چې ما دهغه وخت پيدا کړی وو او هغه مې ادا کړی نه وو همدغه ډول دماپښين، مازديګر، او مابنام الخ او حساب دي وکړي چې دبلوغ څخه رانيولې دتوبې تروخته څومره کلونه يې په بې لمانځې کې تير سوي دي دهغو لمونځونو قضا دی راوګرځوی ددې دليل دادی: قال الله تعالى في كتابه مرة بعد أخرى: أَقِيْمُوْا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ([1]) دا دامر صيغه ده، أو امر دوجوب تقاضا کوي ځکه نو لمونځ فرض سو اوکم شی چې په امر سره فرض سي دهغه څخه دغاړې خلاصيدو يواځې دوې لارې دي دعين واجب تسليمول، او يا دخپله لورې دواجب دمثل حواله کول دخپلې ذمې څخه دعين واجب په ساقطولو سره، كما قالوا في حكم الواجب بالأمر أنه نوعان اداء وهو تسليم عين الواجب بسببه إلى مستحقه وقضاء وهو إسقاط الواجب بمثله من عنده. ([2]) حسامي، په توبې سره يا په حج سره ګناهونه بخښل کيږي فرضونه نه بخښل کيږي، لکه څنګه چې څوك حج وکړي يا توبه وباسي نو دقرضدارانو قرض همغه ډول وربانديواجب دی لکه څنګه چې مخکې وو، همدغه ډول چې دحقوق الله کم قرض پاته دی هغه به په ادا کولو سره ادا کيږي، بلکه عالمانو ليکلي دي چې په توبه سره به دلمانځه دځنډولو ګناه وبخښل سي او سمدستي ادا کول يې لازميږي، حتى که يې بيا په قضا راګرځولو کې تاخير وکړی نو بيرته به دسره ګنهګار سي، قال في الشامية قال الترمذي هو مخصوص بالمعاصي المتعلقة بحق الله تعالى لا العباد ولايسقط الحق نفسه بل من عليه صلوة يسقط عن إثم تأخيرها لا نفسها فلو أخرها بعده تجدد إثم اخر آه ثم قال بعد أسطر نقلا عن البحر معنى التكفر كما يتوهمه كثير من الناس أن الدين يسقط عنه وكذا

([1]) سورة البقرة: ١٣. ظفير
([2]) حسامي ص٣۴. ظفير

قضاء الصلوة والصوم والزكوة إذ لم يقل احد بذلك. آه ج۲ ص۲۷۲. فقط

دډيرو فوت سوو لمونځونو دادا کولو لپاره تراويح پريښوول صحيح نه دي: سوال: (۱۹۵۵) په دي زمانه کي دداسي خلګو ګڼ شمير ليدل کيږي چي دهغو پرڅمه زيات شمير لمونځونه واجب الأداء دي او دهغو دادا کولو هيڅ صورت نه جوړيږي نو ايا درمضان په مياشت کي دتراويحو پرځای فوت سوي لمونځونه په جمع سره کول روا دي اوکه نه؟

جواب: دا صورت جائز نه دی تراويح بيلي په همدغه اهتمام او انتظام سره په جمعه سره ادا کول په کار دي ځکه چي جناب رسول کريم عليه الصلوة والتسليم ددي ډير تعريف فرمايلی دی او په خپل عمل کولو سره يي دا يوه اسوه حسنه ګرځولي ده، نو داطريقه او دا کار دنبي کريم صلی الله عليه وسلم او دصحابه وو، په همدغه ډول او کيفيت او په همدغه نيت سره جاري ساتل ښايي، او په روښانه شريعت کي دا ډول بدلونونه په خيال کي راوړل نه ښايي ځکه چي دا ډيره بده خبره او دسنت سره ټکر کيدونکی کار دی، او دا احداث في الدين دی چي دهغه په باره کي داوعيد: من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد (۱) کافي دی، اعاذنا الله تعالی من مثل هذه الوساوس الشيطانية والهواجس النفسانية. دچا پرڅمه چي دفرائضو قضا پاتي ده هغه په خپله دهغه ذمه واردی، اوکه چيري دی دالله جل جلاله څخه بيريږي او دروښانه شريعت تابع وی نو خپل فوت سوي لمونځونه دي وخت په وخت ادا کوي نور داجائز نه دي چي ددغو فرائضو درعايت په وجه تراويح غوندي مؤکد سنت پريږدي او درمضان المبارك شعار بدل کړي، لنډه دا چي يو مشروع کار چي په ډيرو حديثونو کي په مستقل ډول په ډير اهتمام سره بيان کړه سوی دی او دهغه فضيلتونه بيان کړی سوي دي متروك او مبدل کړي دا ډول خيال هم ديوه مسلمان سړي څخه ليري او مستبعد معلوميږي. فقط (۲)

دډيرو فوائتو دادا کولو په مهلل که چيري يو لمونځ فوت سی نوڅه حکم لري؟ سوال: (۱۹۵۲) کله چي دعمري قضايي لمونځونو دادا کولو لړی پيل سوه او اتفاقا يو لمونځ دعمري قضا ترلمانځه وروسته قضا سو نوپه کمه طريقه يي ادا کړي ايا مخکي وختي لمونځ وکړي اوکه قضايي لمونځ؟

جواب: په دي کي ترتيب ضروري نه دی، که چيري دوختي لمانځه په وخت کي ګنجايش وي نو دواړه قضا لمونځونه تروختي لمانځه مخکي هم کولای سي او وروسته هم او په

(۱) مشکوة باب الإعتصام بالسنة ص۲۷. ظفير

(۲) التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين للرجال والنساء جميعا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مبحث صلوة التراويح ج۱ ص۶۵۹، ط. س. ج۲ ص۴۳). ظفير

دواړو قضايي لمونځونو يعني اوسني قضايي او پخواني قضايي کي چي هريو غواړي مخکي دي وکړي اوچي کم يو غواړي وروسته دي وکړي. (١)

په عمري قضا لمانځه کي دقرآن څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۹۵۷) دعمري قضا لمانځه ټول رکعتونه به ډك کړي اوکه دوه تش دوه ډك؟

جواب: دوه تش او دوه ډك کول په کار دي البته کله چي ډېرو لمونځونو قضايي پوره سي او په راتلونکي کي يواځي شبهه پاته سي چي قضا لمونځ مي پرذمه سته اوکه نه؟ نوهغه وخت دي څلور واړه ډك کوي (٢) اودماسخوتن دفرضوسره دوتروقضاهم لازمه ده.

قرائت ادا کول ضروري دي ليکن دنفلو پرې بسوولو اړتيا نسته: **سوال**: (۱۹۵۸) که چيري ديوه سړي دلسو کالو لمونځ قضا سوی وي اوس هغه توبه ايستلي ده او پنځه وخته لمونځ کوي او په فرضو اوسنتو برسيره وتر او تهجد هم ادا کوي، ايا همدغه ډول وتر او تهجد دي کوي اوکه دي دا پريږدي او دغه وخت دي هم دتيرو لسو کالو دفرضو لمونځونو دقضايي په راوړلو کي ولګوي؟

جواب: کم څه چي دی کوي هغه دي هم کوي او په فارغ وخت کي دي دفوت سوو لمونځونو قضايي هم راګرځوي، مثلا روزانه دي ديوڅو لمونځونو دراګرځولو اهتمام کوي اوکه چيري نور وخت نه وي نو بيا دفوت سوو لمونځونو قضا راګرځول دسنتو او تهجدو څخه مخکي ده، دغه وخت دي هم دوی ته ورکړي (٣) ليکن وتردي نه پريږدي، فقط

دمازديګر او سهار دلمانځه څخه وروسته دفوائتو ادا کول صحيح دي او که نه؟ **سوال**: (۱۹۵۹) دقضا سوو لمونځونو قضا دمازديګر او سهار دلمانځه څخه وروسته جائزه ده اوکه نه؟ که چيري جائزه وي نو ددي حديث څه مطلب دی: لا صلوة بعد الفجر حتى تطلع الشمس ولا صلوة بعد العصر حتى تغيب الشمس؟ (٤)

---

(١) فلا يلزم الترتيب إذا أضاق الوقت الخ او نسيت الفائتة الخ او فاتت ست إعقادية الخ (الدر المختار على هامش رد المحتار باب قضاءالفوائت ج١ ص٦٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفير

(٢) ځکه چي دنفلو په ټولو رکعتونوکي قراءت سته وتفرض القراءة عملا في ركعتى الفرض مطلقا الخ وكل النفل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦۴۴، ط.س. ج٢ ص٢٨) ظفير

(٣) أي كل صلوة فاتت عن الوقت بعد وجوبها فيه يلزمه قضاءها سواء ترك عمداً او سهوا، او بسبب نوم وسواء كانت الفوائت كثيرة او قليلة (عالمگيري مصري باب قضاء الفوائت ج١ ص١١٣، ط.س. ج١ ص١٢١). ظفير

(٤) ويكره أن يتنفل بعد الفجر حتى تطلع الشمس وبعد العصر حتى تغرب لما روى أنه عليه السلام نهى عن ذلك ولا بأس بأن يصلي في هذين الوقتين الفوائت ويسجد للتلاوة ويصلي على الجنازة لأن الكراهة كانت لحق الفرض ليصر الوقت كالمشغول به لا لمعنى الوقت فلم تظهر في حق الفرائض وفيما وجب بعينه الخ (هدايه فصل في الأوقات التى تكره فيها الصلوة ج١ ص٨١ – ٨٢). ظفير

جواب: دقضا سوو لمونځونو قضايي راوړل دمازديګر او سهار ترفرضو لمونځو وروسته جائزه ده، او د: لا صلوة بعد الفجر حتى تطلع الشمس ولا صلوة بعد العصر حتى تغرب الشمس، دحديث نهى پرنوافلو باندي محموله ده ([1]) في الحديث من نام عن صلوة او نسيها فليصليها إذا ذكرها (فان ذلك وقتها) فان الله تعالى قال: أقيم الصلوة لذكري. او كما قال صلى الله عليه وسلم. فقط

<u>دترتيب ښنتن دي دجمعي دلمانځه مخکي قضا راوګرځوي</u>: **سوال**: (۱۹۲۰) دجمعي په ورځ ديوه سړي څخه دسهار لمونځ قضا سو هغه چي دجمعي دلمانځه لپاره جامع مسجد ته راورسيدى نو خطبه ويل کيده او دغه سړى دترتيب ښنتن نه دى يا دترتيب ښنتن دى نو دسهار لمونځ څه وخت ادا کړي؟

جواب: دترتيب دښنتن لپاره ضروري ده چي مخکي دسهار دلمانځه قضا راوړي ځکه چي دسهار دلمانځه دادا کولو پرته دده جمع نه صحيح کيږي، او څوك چي صاحب ترتيب نه دى پرهغه باندي دخطبي اوريدل ضروري دي، هغه ته دجمعي دفراغت څخه وروسته دسهار لمونځ ادا کول په کار دي، په درمختارکي دي: فلا قضاء فائتة لم يسقط الترتيب بينه وبين الوقتية فإنها لا تكره (قوله لا تكره) بل يجب فعلها، شامي لضرورة صحة الجمعة وإلا لا (قوله وإلا لا) أي وان سقط الترتيب لا تكره ([2]). شامي فقط

<u>دقضاء عمري طريقه مروجه چي په ځينو کتابونو کي رانقل کړل سوي ده ثابته ده اوکه نه؟</u>

سوال: (۱۹۲۱) په انيس الأرواح نومي کتاب ص۲۴ مجلس۱۳ کي دي: وى فرمايل: چي اميرالمؤمنين حضرت علي ﷺ دپيغمبر ﷺ څخه روايت کړى دى چي دکم سړي لمونځونه دومره قضا سوي وي چي هغه ته ياد نه وي نوهغه دي ددوشنبي په شپه پنځوس رکعته لمونځ ادا کړي، او په هر رکعت کي دي يوځل سورت فاتحه او يو ځل سورت اخلاص ووايي نو دا لمونځ الله جل جلاله دتيرو سوو لمونځونو کفاره ګرځوي؟ دا خبره شرعا صحيح ده اوکه نه؟

جواب: دمسئلي جواب دا دى: داحاديثو او فقهي څخه دا ثابته نه ده چي هرڅومره لمونځونه دسړي څخه قضا سي دهغو تولو راګرځول په کار دي اوکه چاته دقضايي لمونځونو شميره ياده نه وي چي څومره دي نو هغو ته دي په خپل فکر سره يوه شميره وټاکي چي زما پرذمه دومره لمونځونه دي، دهمدغي شميري له مخي دي قضا راوړي اوکم روايت چي تاسو دانيس الأرواح څخه را نقل کړى دى دهغه هيڅ بنسټ او سند

([1]) مشکوة باب تعميل الصلوة فصل أول ص٦. ظفير
([2]) ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٦٨، ط.س. ج٢ ص١٥٨. ظفير

معلوم (١) نه دی، او نه دا معلومه ده چي دا روایت دحدیثو په کم کتاب کي سته. او دا روایت که چیري ثابت هم سي نو پردي محمولیږی چي څومره قضا سوي لمونځونه ده ته معلوم وي دهغو دي قضایي راوګرځوي، اوکم لمونځونه چي په لا علمی سره پاته سوي دي دهغو لپاره دي ذکر سوی عمل وکړي. فقط

په یوه وخت کي چي څومره قضا لمونځونه غواړي ادا کولای یې سي: **سوال**: (۱۹۲۲) که چیري دیوه سړي دځلورو ورځو لمونځ قضا سي نو په یوه وخت کي یې ادا کولای سي او که نه؟

جواب: دځلورو ورځو قضا سوي لمونځونه په یوه ورځ کي را ګرځولای سي. فقط

دقضا سوو لمونځونو دادا کولو لپاره دي سنت مؤکده نه پریږدي: **سوال**: (۱۹۲۳) دیوه سړي ډیر لمونځونه قضا سوي دي اوس که چیري هغه ادا کول غواړي نو په سنتوکي دفوت سوو فرضو نیت کولی سي اوکه نه؟

جواب: فوت سوي لمونځونه دي ځانته دقضا په نیت سره ادا کړي، په مؤکدو سنتو کي دي دهغو نیت نه کوي (٢) البته که چیري نوافل پریږدي، او دفوت سوو لمونځونو قضایي راوګرځوي نو په دي کي څه ستونزه نسته. (٣)

په قضا سوو لمونځونو کي هغه وخت ترتیب نسته کله چي هغه دترتیب ځښتن نه وي: **سوال**: (۱۹۲۴) که چیري دقضا سوو لمونځونو ادا په ترتیب سره ونه کړي نو جائز دي اوکه نه؟

جواب: دترتیب نه لرونکي لپاره داجائز دی چي څرنګه وغواړي غیرمرتب دي اداکړي. (٤)

دماخستن کم لمونځ چي قضا سوی دی دهغه دیادوالي سره سره دسهار لمونځ نه کیږي:

سوال: (۱۹۲۵) یوه سړي دماسخوتن لمونځ پریښوی اوس هغه دسهار لمونځ وکړی او دماسخوتن لمونځ چي دهغه پرذمه وو هغه یي ونه کړی په دي صورت کي دهغه دسهار لمونځ وسو او که نه؟

---

(١) وقضاء الفرض الخ فرض (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢) ظفیر

(٢) وسن مؤکدا اربع قبل الظهر الخ (درمختار) مؤکدا ای إستنانا مؤکدا بمعنی أنه طلب طلبا مؤکدا زیادة علی بقیة النوافل ولهذا کانت السنة المؤکدة قریبة من الواجب في لحوق الإثم کما في البحر ویستوجب تارکها التضلیل واللوم. (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب في السنن والنوافل. ج١ ص٦٣٠، ط.س. ج٢ ص١٢). ظ

(٣) أما المستحب والمندوب فینبغي ان لایکره ترکه اصلا (ردالمحتار باب ما یفسد الصلوة وما یکره فیها مطلب في بیان السنة والمستحب الخ ج١ ص٧١١، ط.س. ج٢ ص٢٥٣). ظفیر

(٤) فلا یلزم الترتیب إذا ضاق الوقت او نسیت الفائتة او فاتت ستة إعقادیة الخ بخروج وقت السادسة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفیر

جواب: که دترتیب څښتن داسي وکړي نو دهغه دسهار لمونځ نه کیږي پکار دي چي مخکي دماسخوتن لمونځ وکړي او بیا دسهار لمونځ وکړي. (١) فقط (البته که چیري وخت تنګ وي او ګنجایش نه وي نو یواځي دوخت لمونځ دی وکړي او قضا دي وروسته ادا کړي کما في الدرالمختار: فلا یلزم الترتیب إذا ضاق الوقت المستحب، ظفیر).

دماښام په وخت کي دماپښین او مازدیګر قضا څنګه وکړي؟ سوال: (١٩٢٦) که چیري خالي دمازدیګر یا دماپښین او مازدیګر دواړه لمونځونه قضا سوي وي نو دماښام په وخت کي دا دری واړه لمونځونه څنګه ادا کړي کله چي دماښام وخت دلمانځه لپاره لږ دی که چیري قضا سوي لمونځونه مخکي کوي نو دماښام لمونځ هم قضا کیږي څرنګه ترتیب جائز دی، او بله دا چي داجائز دي چي که چیري دځلورو یاپنځو لمونځونو په قضا کي ترتیب ونه کړي نوپه کم وخت کي چي کم دوخت لمونځ کوي هغه به نفل شمار لکیږي؟

جواب: دماښام وخت دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد تقریبا تر یوه نیم ساعت پوري وي، نو دماپښین او مازدیګر قضا دي مخکي وکړي اوبیا دي دماښام لمونځ هم په همدغه وخت کي وکړي او مسئله داهم ده چي که چیري دوختي لمانځه وخت تنګ سي چي دوختي لمانځه پرته دقضایي لمانځه ګنجایش نه وي نو بیا ترتیب ساقطیږي په دي حالت کي دي وختي لمونځ مخکي وکړي او قضا دي وروسته وکړي. (٢)

ډیر قضایي لمونځونه په یوه وخت کي ادا کول صحیح دي اوکه نه؟ سوال: (١٩٢٧) (١) ډیر قضا سوي لمونځونه په یوه وخت کي ادا کول جائز دي اوکه نه؟

(٢) په قضا سوو لمونځونو کي وتر او دماسخوتن لمونځ هم په یوه وخت کي کول ضروري دي، اوکه دي په یوه وخت کي دماسخوتن او په بل وخت کي دي وتر وکړي؟

جواب (١) جائز دی (٣) (په یوه وخت کي دډیرو وختونو قضا لمونځونه ادا کول صحیح دي. ظفیر)

---

(١) الترتیب بین الفروض الخمسة والوتر اداءاً وقضاءا لازم الخ فلم یجز فجر من تذکر أنه لم یوتر لوجوبه عنده الخ (ایضا ج١ ص٢٧٩، ط.س. ج٢ ص٦٥). ظفیر

(٢) الترتیب بین الفروض الخمسة والوتر اداءا وقضاءا لازم فلم یجز فجر من تذکر انه لم یوتر إلا إذا ضاق الوقت المستحب إذا نسیت الفائتة الخ او فاتت ست إعقادیة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٧٩، ط.س. ج٢ ص٦٥). ظفیر

(٣) لأنه علیه السلام أخرها یوم الخندق (درمختار) وذلك أن المشرکین شغلوا رسول الله صلی الله علیه وسلم عن اربع صلوات یوم الخندق حتی ذهب من اللیل ما شاء الله تعالی فأمر بلالا فأذن ثم أقام فصلی الظهر ثم أقام فصلی العصر ثم أقام فصلی المغرب ثم اقام فصلی العشاء (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٧٢، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفیر

(۲) بيل بيل هم قضا راګرځولای سي په يوه وخت کي قضا راوړل ضروري نه دي.

دفوت سوو لسو شلو کالو لمونځونه به څنګه ادا کوي؟ سوال: (۱۹۲۸) يوه سړي په پابندی سره پنځه وخته لمونځ ادا کوی وروسته يې لمونځ پريښووی کله به يې کوی او کله نه دشمير له مخي دده څخه ټول لمونځونه لس يا شل کاله فوت سوي دي، اوس دهغو دادا کولو صورت څنګه کيدای سي؟

جواب: کله چي تر يوه وخته دغه سړي دلمانځه اهتمام پريښوولی وو کله به يې کوی او کله نه نو ددغي ټولي زماني قضا راګرځول پکاردي، اسان صورت يې دادی چي دهر يوه وختي فرض لمانځه سره دي هغه لمونځ دقضا په نيت هم کوي که يې دلسو کالو لمونځونه پرېيښي وي نولس‌کاله دي دهرلمانځه سره يوقضا سوی لمونځ راګرځوي (۱).

دقضا لمانځه لپاره اذان او تکبير سته اوکه نه؟ سوال: (۱۹۲۹) زيد قضا لمونځونه په جومات کي په کرار اذان اوتکبير ويلو سره په دي نيت ادا کوي، مثلاً څلور رکعته دماپښين فرض کوم په دي صورت کي داذان او تکبير څه حکم دی او دوترو لپاره اذان اوتکبير ويل ښايي اوکه نه؟

جواب: دکم لمانځه چي ځانته قضا په جومات کي راګرځوي نو دهغه لپاره اذان او اقامت مشروع نه دی، (۲) اوپه ذکر سوي نيت سره دقضا لمونځ کيږي، او دوترو لپاره هم اذان او اقامت نسته. (۳)

ديوه سړي څخه دډيرو ورځو لمونځونه قضا سوي دی که هغه دسنتو پرځای دفرضو قضا راوړي نو داڅنګه حکم لري؟ سوال: (۱۹۷۰) ديوه سړي څخه دډيرو ورځو لمونځونه قضا دي اوس که هغه دسنتو پرځای قضا لمونځونه کوي نو څه حکم لري، قضا لمونځ غوره دي اوکه دوخت سنت؟

جواب: دوخت مؤکد سنت پريښودل نه ښايي، او فوت سوي لمونځونه په فارغو وختونو کي بايد ادا کړل سي، او دا ښکاره ده چي دفوت سوو لمونځونو ادا کول مهم دي، ليکن که چيري دواړه کاره کيدای سي چي فوائت هم وکړي اودوخت مؤکد سنت هم نه پريږدي

---

(۱) ولو فاتته صلوات رتبها في القضاء (إلى قوله) لأن النبى عليه السلام شغل عن اربع صلوات يوم الخندق قضاهن مرتبا (هدايه باب قضاء الفوائت ج۱ ص۱۳۷). ظفير

(۲) ويؤذن ويقيم لفائتة رافعا صوته لو بجماعة (اى في غير المسجد) اوصحراء لا بيته منفردا ولا فيما يقضي من الفوائت في مسجد لأن فيه تشويشا وتغليطا ويكره قضاءها فيه لأن التاخير معصية فلا يظهرها (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الأذان ج۱ ص۳۲۲ – ۳۲۳، ط.س. ج۱ ص۳۹۰). ظفير

(۳) وهو سنة مؤكدة للفرائض في وقتها ولو قضاء لا لغيرها كعيد (درمختار) اى وتر وجنازة الخ (رد المحتار باب الأذان ج۱ ص۳۵۲، ط.س. ج۱ ص۳۸۴). ظفير

نو دا غوره ده. فقط

چي ديو وخت قضا وي هغه په هغه وخت کي ادا کول ضروري نه دي: سوال: (۱۹۷۱) دکم وخت لمونځ چي قضا سوی دی هغه به په هغه وخت کي کوي اوکه يا مثلا دماپښين لمونځ په ماسخوتن کي او دماسخوتن په ماپښين کي کولای سي اوکه نه؟

جواب: ادا کولای يي سي په هغه وخت کي ادا کول يي ضروري نه دي.

دسهار ماښام او ماخستن په قضا کي قراءت په زوره ويلای سي او که نه؟ سوال: (۱۹۷۲) دسهار ماښام او ماسخوتن په قضا کي جهرا قراءت کولای سي؟

جواب: که چيري په همدغو وختونو کي قضا راګرځوي نو جهرا يي لوستلای سي او که يي دورځي راګرځوي نو نه يي سي لوستلای. (۱)

(۱۹۷۳) که چيري ددوو دريو کالو لمونځونه قضا سي او اوس دادا کولو موقع په لاس نه ورځي نو دهغه دخلاصون لپاره کمه لاره ده؟

جواب: اسانه لاره ددي داده چي دهر يوه لمانځه سره دي دهمدغه وخت دلمانځة قضا راګرځوي. دڅوموه کلونو لمونځ چي فوت سوی دی هغومره کلونه دي دهر لمانځه سره دهغه وخت دلمانځه قضا هم راګرځوي چي مخکي قضا سوي دي دقضا راګرځولو پرته دخلاصون هيڅ لاره نسته. فقط

دسهار او مازديګر دلمانځه څخه وروسته قضا لمونځ کولای سي اوکه نه؟ سوال: (۱۹۷۴) دسهار او مازديګر دلمانځه وروسته قضا لمونځ کولای سي اوکه نه؟

جواب: کولای يي سي. (۲)

درمضان په وروستني جمعه کي دقضاء عمري رواج ثابت نه دي: سوال: (۱۹۷۵) درمضان شريف په وروستنی جمعه کي قضاء عمري کول کيږي دا جائزه ده اوکه نه؟

جواب: درمضان شريف په وروستی جمعه کي قضاء عمري په مخصوص صورت سره ثبوت نه لري، په شامي کي دي چي دامام صاحب طرف ته ددي لمانځه نسبت کول صحيح نه دي، او له فخر الإسلام او قاضي خان څخه يي ددي کراهت نقل کړی دی، لهذا ددي لمانځه پرې ښوول په کاردي. (۳)

---

(۱) ويجهر الإمام في الفجر واولى العشائين اداءا وقضاءا الخ ويخير المنفرد في الجهرات إن أدى الخ ويخافت المنفرد حتما إن قضى الجهرية في وقت المخافة كأن صلى العشاء بعد طلوع الشمس على الأصح (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ج۱ ص۴۷۹، ط.س. ج۱ ص۵۳۲ – ۵۳۳) معلومه سوه چي ذکر سوی حکم دمنفرد لپاره ليکل سوی دی. ظفير

(۲) وكره نفل بعد صلوة فجر وعصر ولا يكره قضاء فائتة ولو وترا الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الصلوة ج۱ ص۳۴۸، ط.س. ج۱ ص۳۸۴). ظفير =

<u>قضايي لمونځ په جمع سره کول څنګه</u> سوالخ (۱۹۷۲) قضا سوي لمونځونه په جمعه سره کول څنګه دي؟

جواب: مسنون دي. (۱) فقط والله أعلم

<u>دلمانځه دقضا کولو څه کفاره ده؟</u> سوال: (۱۹۷۷) که چيري دصاحب ترتيب څخه لمونځ قضا سي نو دهغه لپاره څه کفاره ده؟

جواب: کفاره يي دا ده چي همدغه لمونځ دي وکړي اود ترتيب ځښتن ته ترتيب ضروري دی، يعني دوخت دلمانځه څخه يې مخکي کول ضروري دي. (۲)

<u>دقضا سوو لمونځونو قضايي</u>: **سوال**: (۱۹۷۸) ديوه سړي څخه ددوو دريو کلونو لمونځونه په داسي ډول قضا سول چي کله يي دمازديګر دا ونه کړی کله يي دماپښين دا ونه کړی نو ادا کول به يې څنګه وي؟

جواب: دغالب ګمان موافق دي ددي لمونځونو قضايي راوړي. فقط

<u>دترتيب دڅښتن حکم</u>: **سوال**: (۱۹۷۹) دماښام لمونځ قضا سو دهغه قضايي نه وه راګرځولي چي دماسخوتن لمونځ يي وکړی نو اوس دماښام لمونځ وکړي بيا وتر او سنت وکړي، اوکه دماښام لمونځ وروسته وکړي او دماسخوتن لمونځ يې وسو اوکه نه؟

جواب: که چيري دی دترتيب ځښتن وي نو دماسخوتن لمونځ يي ونه سو دماښام تر لمانځه وروسته دي دماخستن فرض بيا وکړي، ترهغه وروسته دي سنت او وتروکړي. (۳)

<u>دقضا سوو لمونځونو کفاره</u>: **سوال**: (۱۹۸۰) که چيري ديوه سړي څخه لمونځونه قضا سوي وي اوهغه مړ سي او دمرګ په وخت کي يې قريبانو ته ويلي وي چي زما لمونځونه قضا سوي دي دهغو په کفاره کي يوه نسخه قرآن مجيد يوه طالب ته ورکړی دا جائز دي اوکه نه؟ او دتلاوت دسجدي کفاره سته اوکه نه؟

جواب: که چييري وفات سوی مالدار وو او هغه دلمانځه او نورو فرائضو دکفاري وصيت کړی وي نو دهغه دمال ددريمي برخي څخه دي دلمانځه او نورو فرائضو کفاره ادا کړل سي ديوي نسخي قرآن مجيد په ورکړه سره دلمونځونو کفاره نه سي ادا کيدلای،

---

(۳) وما نقل أن الإمام قضی صلوة عمر الخ (درمختار) والجواب اولا أنه لم يصح نقل ذلك عن الإمام الخ (رد المحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۷۵۳، ط.س. ج۱ ص۳۸۴). ظفير

(۱) جاء في حديث ليلة الحريس وأمر بلالا فأقام الصلوة فصلی بهم الصبح فلما قضی الصلوة قال من نسی الصلوة فليصليها إذا ذکرها. رواه مسلم (مشکوة ص۲۷). ظفير

(۲) من فاتته صلوة قضاها إذا ذکرها وقدمها علی فرض الوقت الخ (هدايه ج۱ ص۱۳۷). ظفير

(۳) ومن صلی العصر وهو ذاکر أنه لم يصل الظهر فهی فاسدة إلا إذا کان في آخر الوقت وهی مسئلة الترتيب (هدايه قضاء الفوائت ج۱ ص۱۳۹). ظفير

دهغه دا ویل لغوه دي [١] او علامه شامي ویلي دي: ولا روایة في سجدة التلاوة ای والصحیح أنه لایجب الخ ددي څخه څرګنده سوه چي دتلاوت دسجدي کفاره نسته. فقط

داسقاط مسئله: **سوال**: (١٩٨١) داسقاط حیله چي دمړي لپاره کیږي ددي ثبوت شرعا هم سته او که نه؟

جواب: هیڅ نسته [٢]. فقط

قضاء الفوائت: **سوال**: (١٩٨٢) دیوه سړي پنځه یا شپږ لمونځونه برابر قضا سول اوس که چیري هغه دوخت لمونځ کوي نو کیږي او که نه؟

جواب: که چیري شپږ لمونځونه قضا سوي وي نو دوخت لمونځ کیږي او که ددي څخه کم وي نو ترڅو چي هغه فوت سوي لمونځونه راونه ګرځوي دوخت لمونځ یې نه کیږي، بلکه فاسدیږي یعني په موقوف فساد سره. [٣] فقط

دترتیب څښتن څوک دی؟ **سوال**: (١٩٨٣) صاحب ترتیب چاته وایي هغه به څه کوي؟

جواب: دترتیب څښتن هغه څوك دی چي دهغه پرغاړه شپږ قضا سوي لمونځونه نه وي کم لمونځ چي ورڅخه قضا سوی هم وي نوهغه یې ادا کړی وي داصاحب ترتیب دی یعني پرهغه باندي لازم دي چي که چیري لمونځ ورڅخه قضا سي نو هغه به دوختي لمانځه څخه مخکي را ګرځوي. [٤] فقط

قضاء دي سمدستي ادا کوي: **سوال**: (١٩٨٤) یو سړی بیده وو چي ورځ وربانديراغله هغه دپاڅیدلو سره سمدستي قضا لمونځ وکړی دغه ډول بله ورځ هم وربانديپه بیده لمر راوختی لیکن په دي ورځ یې دسهار لمونځ دماپښین سره وکړی که چیري دخوب له امله په لمانځه کي ځنډ راسي، یا قضا سي نوسمدستي کول پکار دي که په ځنډ سره؟

جواب: چي کم وخت راویښ سي که چیري هغه وخت دلمانځه دکراهت نه وي نو سمدستي په هغه وخت کي قضا لمونځ کول ښایي په دویمه ورځ چي په قضا کي تاخیر

---

[١] إذا مات الرجل وعليه صلوات فائتة فأوصى بأن يعطى كفارة صلوته يعطي لكل صلوة نصف صاع من بر وللوتر نصف صاع والصوم يوم نصف صاع من ثلث ماله (عالمگيري كشوري ج١ ص١٢٣، ط.س. ج١ ص١٢٥). ظفير

[٢] والواجب على الميت أن يوصى بما يفي بما عليه إن لم يضق الثلث عنه فإن اوصى بأقل وأمر بالدور وترك بقية الثلث للورثة او تبرع به لغيرهم فقد اثم بترك ما وجب عليه (رد المحتار باب قضاء الفوائت مطلب في بطلان الوصية بالختمات والتهاليل ج١ ص٦٨٢، ط.س. ج٢ ص٧٣). ظفير

[٣] فاتته صلوات رتبها في القضاء كما وجبت في الأصل (إلى قوله) إلا أن نريد الفوائت على ستة صلوات لأن الفوائت قد كثرت فتسقط الترتيب فيما بين الفوائت الخ (باب قضاء الفوائت هدايه ص١٣٧). ظفير

[٤] ولو فاتته صلوات رتبها في القضاء كما وجبت في الأصل (إلي قوله) إلا أن يزيد الفوائت على ستة صلوات لأن الفوائت قد كثرت فتسقط الترتيب الخ (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٧). ظفير

وکړی یعني دماپښین په وخت کي قضا راوړه دا یي ښه ونه کړه. فقط (۱)

قضاء عمري: **سوال**: (۱۹۸۵) قضاء عمري احتیاطا کول څنګه دي؟

جواب: قضاء عمري علی توهم الفساد کول دامام صاحب څخه ثابت نه دي او ښه خبره داده چي مکروه دي نوکله چي له بنسته ثابته نه ده نو په دي باندي نور تفریعات کول هم صحیح نه دي اوپه داسي ځای کي دکمال او نقصان بحث بي ګټي دی (۲) ثبت العرش ثم نقش. فقط

دقضایي عمري ادا کول: **سوال**: (۱۹۸۶) ددین عالمان په دي مسئله کي څه وايي چي دعمري قضا دلمونځونو څنګه طریقه ده دپنځو فرضونو وروسته به یي کوي او که مخکي او دومره پابندي یي کول چي که جمع ولاړه وي هم ترهغو په کي ګډون نه کوي ترڅو چي قضایي عمري یې نه وي کړي دا څنګه ده؟

جواب: چي څومره لمونځونه یي قضا سوي دي هغه چي په کم ډول غواړي ادا دي کړي ځکه چي دی دترتیب څښتن نه دی خوښه ی ده که یي دوخت دلمانځه څخه مخکي کوي اوکه وروسته یا دي په یوه وخت کي پنځه لمونځونه سره له وترو روزانه کوي جمع دي نه پریږدي بلکي دجمعي څخه دي مخکي کوي یا دي وروسته کوي. فقط (ولا یعود لزوم الترتیب بعد سقوطه بکثرتها ای الفوائت بعود الفوائت إلی القلة بسبب القضاء لبعضها علی. المعتمد لأن الساقط لایعود وکذا لایعود الترتیب بعد سقوط بباقي المسقطات السابقة من النسیان والضیق آھ درمختار (۳)

چي دشک په ډول قضا لمونځونه کوي هغه به څنګه وي؟ **سوال**: (۱۹۸۷\۱) که چیري دڅاښت دلمانځه یا دتهجدو په وخت کي قضاء عمري کوي او دغه سړی دشك په ډول قضا راګرځوي حالانکه دده په ذمه یقینا څه فرض لمونځ نسته نو دغه لمونځ به دڅاښت یا تهجدو وي او که به نفل وي؟ او که چیري دماښام لمونځ یي قضا کړي وي نو په دري رکعته نفل کولو سره خو به څه خرابي نه وي؟

چا دسهار قضا لمونځ وکړی حالانکه دهغه پرذمه قضا لمونځ نه وو نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۹۸۸\۲) دماسخوتن دلمانځه وروسته څلور رکعته لمونځ سنت دی دوه مؤکده او دوه غیر مؤکده نوکه یوه سړي دوه رکعته مؤکده وکړل، او دوه دسهار دفرضو قضا اوپه

---

(۱) من فاتته صلوات قضی إذا ذکرها وقدمها علی فرض الوقت (هدایه باب قضاء الفوائت ج۱ ص۱۳۷). ظفیر

(۲) في العتابیة عن ابن نصر رحمه الله فیمن یقضي صلوات عمره من غیر أن فاته شيء یرید الإحتیاط فإن لأجل النقصان والکراهة فحسن وان لم یکن لذلك لایفعل. (عالمگیري کشوري) ج۱ ص۱۲۳، ط.س. ج۱ ص۱۲۵). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج۱ ص۶۸۴، ط.س. ج۲ ص۱۷۰. ظفیر

حقیقت کي دده پرذمه قضا نه وي نو ایا دغه څلور رکعته به سنت سي که چیري داسي وي نو وفرمایاست چي ددي په یوه سلام سره کول خو به ضروري نه وي؟ فقط

جواب: [١] څه اختلاف نسته او دمابنام په قضا کي په دي احتمال سره څه کراهت نسته. في العالمگیرية ج١ ص١١٢ عن ابي نصر رحمه الله فیمن یقضي صلوات عمر من غیر أن فاته شيء یرید الإحتیاط فان کان لأجل النقصان والکراهة فحسن وإن لم یکن لذلك لا یفعل والصحیح أنه یجوز إلا بعد صلوة العصر والفجر وقد فعل ذلك کثیر من السلف لشبهة الفسادکذا في المضمرات. جمیل الرحمن

[٢] دیوه سلام شرط په دي کي نسته بلکه دوه رکعته سنت مؤکده ځانته په کار دي او دوه رکعته سنت غیر مؤکده ځانته نوپه دي صورت کي چي قضا دده پرذمه نه وه نو دغه دوه رکعته به نفل سي اوټول به څلور رکعته بعد العشاء سي. فقط

(مستناد مما في الفتاوی العالمگیرية ج١ ص١٥٥ وصلی رکعتین وهو یظن أن اللیل باق فاذا تبین أن الفجر قد کان طلع إلی قوله قال المتأخرون تجزیه عن رکعتی الفجر. جمیل الرحمن)

دسهار او ماپښین او مازدیگر قضا دمابنام څخه مخکي وکړي اوکه وروسته؟ **سوال**: (١٩٨٩) که چیري دیوه سړي دماپښین او مازدیگر لمونځ قضا سو نو دا دمابنام څخه مخکي وکړي اوکه وروسته او څه نیت به کوي؟

جواب: دغه ټول لمونځونه دي دمابنام څخه مخکي وکړي اوکه چیري دومره گنجایش نه وي نو دمابنام څخه وروسته دي وکړي لنډه دا چي دټولو لمونځونو قضا دي په همدي ورځ راوگرځوي په هر یوه لمونځ کي دي دهمغه لمونځ نیت وکړي (لا یجوز اداء الوقتية قبل اداء الفوائت الخ ویسقط الترتیب بضیق الوقت الخ عالمگیریة ج١ ص١١٤. جمیل الرحمن)

قضاء عمري ثابته ده اوکه نه اوددي دقضا څه ډول طریقه ده؟ **سوال**: (١٩٩٠) دقضاء عمري دلمانځه څنگه ترکیب دی، دحدیث شریف څخه ثابت دی اوکه نه؟

جواب: دقضاء عمري لمونځ لکه څنگه چي مشهور دی دحدیث شریف څخه ثابت نه دی دچا پرذمه چي واقعي دلمونځونو قضا وي هغه دي وشمیري او هغه دي پوره کړي (کل صلوة فاتت عن الوقت بعد وجوبها فیه یلزمه قضاءها الخ فتاوی عالمگیري ج١ ص١١٣ جمیل الرحمن).

لمونځ پرېښوول او نور دلمانځه څخه بندول څنگه دي؟ **سوال**: (١٩٩١) لمونځ پرېښودل او دلمانځه څخه بندول څنگه دي او په دي سره نکاح ماتیږي اوکه نه؟

جواب: لمونځ پرېښودل کبیره ګناه ده نو چاته دلمانځه دپرېښودلو حکم کول او منع کول دا هم ګناه کبیره ده لمونځ پرېښوونکي او لمونځ منع کوونکي دواړو ته توبه ایستل په کار دي او دلمونځونو قضا راګرځول په کاردي نکاح دهغه نه ده ماته سوي خو توبه دي وباسي او په خپل کار دي پښیمانه سي او لمونځ دي شروع کړي، فقط والله تعالی اعلم (ومن الكبائر السحر وكتمان الشهادة من غير عذر والإفطار في رمضان من غير عذر وقطع الرحم وترك الصلوة معتمد جوهره نيره ج٢ ص٢٩٥ جميل الرحمن).

دقضا سوو لمونځونو کفاره څه ده؟ سوال: (١٩٩٢) [١] که چیري دبدمرغی له امله دشرعي عذر څخه پرته دومره لمونځونه قضا سوي وي چي دهغو شمارل ناممکن وي نو څه کفاره یې ده؟

دلمونځونو کفاره صرف صدقه ده اوکه بل څه؟ سوال: (١٩٩٣) [٢] که چیري ددي کفاره صدقه هم کیدای سي نو غریبان او محتاجان خلګ به څه کوي؟

دمریض او شیخ فاني دقضا لمونځونو کفاره څه ده؟ سوال: (١٩٩٤) [٣] دناروغ یا شیخ فاني دقضا سوو لمونځونو کفاره څه ده؟

جواب: حامدا ومصلیا. أما بعد: داستفساراتو جوابونه مفصل دا دي:

[١] قضا سوي لمونځونه وروسته ادا کول په کار دي، دچا چي کم لمونځ دڅه عذر یا غفلت په وجه قضا سي نو کله چي ورته یاد سي هغه دي وکړي اوکم وخت چي ورياد سي دهغه وخت دفرض لمانځه څخه مخکي قضا سوي لمونځ کول په کار دي، دحنفیانو په نزد په وقتي لمانځه او قضایي لمانځه کي ترتیب ضروري دی،رسول الله صلی الله علیه وسلم دخندق په ورځ څلور لمونځونه په ترتیب سره ادا کړي وه، او بل په حدیث کي ارشاد دی چي څنګه تاسو ما په لمانځه باندي وینئ دغه ډول تاسو هم لمونځ* کوئ نو څنګه چي هغوی په ترتیب سره قضا لمونځونه ادا کړي دي موږ ته هم په کار دي. ([١])

[٢] که چیري قضا سوی لمونځ په داسي وخت کي ورياد سي، چي که هغه ادا کړي نو په وخت کي دومره ګنجایش نه وي چي دوخت لمونځ هم پکښي ادا کړي بلکه دوخت دلمانځه دفوت کیدلو اندیښنه وي، نوپه داسي صورت کي دوخت دلمانځه مخکي ادا کول په کار دي او دقضا سوی لمانځه وروسته لنډه دا چي که چیري په وخت کي

([١]) من فاتته صلوة قضاها إذا ذكرها وقدمها على فرض الوقت والأصل فيه ان التركيب بين الفوائت وفرض الوقت مستحق ولو فاتته صلوات رتبها في القضاء كما وجبت في الأصل لأن النبى صلى الله عليه وسلم شغل عن اربع صلوات يوم الخندق فقضاهن مرتبا ثم قال صلوا كما رايتموني أصلي. (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٧). ظفير

پراخوالی او گنجایش وي نومخکي قضا سوی لمونځ په کار دی اوکه چيري وسعت نه وي نو مخکي وختي لمونځ کول په کار دي. (١)

[٣] کله چي فوت سوي لمونځونه ډير سي نو په ترتيب سره ادا کول يي ساقط سي او په خپله په فوت سوو لمونځونو کي دترتيب لحاظ کول پاته نه سي، او دډيروالي اندازه داده چي فوت سوي لمونځونه په شمير کي شپږ سي کله چي دشپږم لمانځه وخت تير سي نو ويلای سو چي فوت سوي لمونځونه ډير سوه، نو په دي صورت کي دترتيب دلحاظ اړتيا پاته کيږي. (٢)

[٤] ديوه سړي په ذمه دډيري مودي قضا سوي لمونځونه دي، او هغه دکثرت حد ته رسيدلي دي، ده دهغو لمونځونو ادا کول شروع کړي وو چي اوس دکارونو له امله څه نور لمونځونه ورځخه قضا سول نو اوس کله چي مخکني او وروستني فوت سوي لمونځونه ډير دي نوپه دي صورت کي مخکي دوخت لمونځ کول روادي، ځکه دقضا سوو لمونځونو دډير والي له امله دهغو ترتيب پاته نه سو. (٣)

[٥] که چيري چا فوت سوي لمونځونه ادا کول پيل کړل او اوس هغه لږ پاته سوه يعني دشپږو لمونځونو څخه لږ پاته سوه نو اوس به بيرته دترتيب مسئله په خپل حال سي. (٤)

[٦] که چيري قضا سوي لمونځونه دومره ډير وي چي دهغو شميرل گران وي نو په کار ده چي ښه فکر وکړي او يوسم اټکل وکړي دساري په توگه فکر دي وکړي چي دپنځه لسو يا اتلسو کالو په عمرکي بالغ سو او څلور پنځه کاله يي لمونځونه قضا کړل يا يي کله کړي اوکله يي نه وه کړي اودا موده ددي سړي په صحيح اندازه کي مثلا څلور کاله جوړيږي نو دي سړي ته دخپل گمان مطابق دشمير لمونځونه کول ښايي لکه څنگه چي په دنيوي امورو کي دچا قرض وي او اندازه معلومه نه وي نو هغه هم داټکل او تخمين دلاري ادا کيږي ترڅو دهغه حق پرغاره پاته نه سي همدغه ډول دي اټکل وکړي چي دڅومره ورځو لمونځونه قضا سوي دي هغه دي ادا کړي او وړ خبره دا ده چي څومره ډير

---

(١) ولو خاف الوقت يقدم الوقتية ثم يقضيها لأن الترتيب يسقط بضيق الوقت وكذا بالنسيان وكثرة الفوائت كيلا يؤدي إلى تقوية الوقتية (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٢٧). ظفير

(٢) إلا أن يزيد الفوائت على ستة صلوات لأن الفوائت قد كثرت فتسقط الترتيب فيما بين الفوائت بنفسها كما يسقط بينهما وبين الوقتية وحد الكثرة أن تصير الفوائت ستا بخروج وقت الصلوة السادسة (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٨). ظفير

(٣) ولو إجتمعت الفوائت القديمة والحديثة قيل يجوز الوقتية مع تذكر الحديثة لكثرة الخ (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٨). ظفير

(٤) ولو قضى بعض الفوائت حتى قل ما بقى فالترتيب عند البعض وهو الأظهر. (ايضا ج١ ص١٣٨). ظفير

کولای سي هغومره دي ادا کړي. ځکه چي ټوله ګټه ده.
[٧] دقضا سوو لمونځونو کفاره دهغو ادا کول او الله جل جلاله ته په عاجزي اوپښېماني سره توبه کول دي، صدقه ورکول نه دي هو! که چيري په صدقي سمره دالله جل جلاله غضب دفع کيږي نو اميد سته چي دالله جل جلاله کمه غصمه دلمانځه دپرېښودلو په سبب وه هغه به پاته نه سي او ديوه غريب داړتيا په پوره کولو سره به دالله جل جلاله رحمت متوجه سي نوراصل دلمانځه ادا کول دي دصمدقي په ورکړه سوه به لمونځ ساقط نه سي.
[٨] دمريض په اړوند هم په تفصيل سره مسائل بيانول مناسب معلوميږي چي په کم صورت کي کفاره ده او په کم صووت کي تخفيف اوپه کم صورت کي بخښنه، ناروغ که چيری دريدلای نه سي نو په ناسته دي لمونځ وکړي او رکوع او سجده دي ادا کړي. (١)
[٩] که چيري درکوع او سجدي طاقت هم نه لري نو رکوع او سجده دي په اشاره سره ادا کړي، يعني په ناسته دي لمونځ وکړي او درکوع لپاره دي لږ ښکته ټيټ کړي او دسجدي لپاره دي لږ زيات ټيټ کړي. (٢)
[١٠] څوك دي منګی يا صندوق يا بالښت يانور همداسي شيان دسجدي لګولو لپاره خپل مخ ته نه ايږدي بلکه څومره اشاره چي کولای سي هغه دي وکړي. (٣) لا يكلف الله نفسا إلا وسعها. (٤)
[١١] که په مريض کي دناستي طاقت نه وي نو په سيده پروته دي لمونځ وکړي چي پښي او مخ يې دواړه دقبلي لوري ته وي او رکوع او سجده دي دښې په اشارې سره ادا کوي، او دسجدي په اشاره کي دي ښې لږ ډير کښته کړي. (٥)
[١٢] که چيري داسي ناروغ وو چي لمونځ يي په اشاره سره کوی او درکوع او سجدي قدرت يي نه وو دالله جل جلاله په قدرت په لمانځه کي ورته دومره افاقه وسوه چي پرركوع اوسجده يي قدرت پيداکړی، نو په دي صورت کي به دټولو په وړاندي لمونځ دسره کوي. (٦)

---

(١) إذا عجز المريض عن القيام صلى قاعدا ويسجد لقوله عليه السلام لعمران بن حصين صل قائما فان لم تستطع فقاعدا فأن لم تستطع فعلى الجنب تؤمى ايماءاً الخ (هدايه باب صلوة المريض ج١ ص١۴۴). ظفير
(٢) ان لم تستطع الركوع والسجود أومي ايماء الخ يعني قاعدا (ايضا). ظفير
(٣) وجعل سجوده أخفض من ركوعه لأنه قائم مقامها فأخذ حكمها، ولا يرفع إلى وجهه سيء الخ (ايضا). ظفير
(٤) سورة البقرة. ظفير
(٥) وإن لم يستطع القعود استلقى على ظهره وجعل رجليه إلى القبلة واومى بالروع والسجود الخ (ايضا). ظفير
(٦) وإن صلى بعض صلوته بايماء ثم قدر على الركوع والسجود إستأنف عندهم جميعا (هدايه باب صلوة المريض =

[۱۳] که يو مريض بيهوښه سو او دپنځو لمونځونو يا دپنځو کمو لمونځونو وخت يې په بيهوښۍ کي تير سو نو په هوښ کي دراتلو وروسته به ددي لمونځونو قضا راوړي، اوکه يې دپنځو لمونځونو څخه ډير وخت په بيهوښۍ کي تير سو نو قضا نسته ورباندي. (۱)

[۱۴] ددي فقهي تفصيلاتو څخه دا خبره په ښه ډول معلوميږي چي په شريعت کي دلمانځه څومره وقعت او څومره ټينګار دی چي په ناروغي کي هم ددي ادا کول لازمي دي، نو موږ ته نه ښايي چي دشرعي عذر څخه پرته لمونځ پريږدو، دهغو مسلمانانو په حال باندي افسوس دی څوك چي په مزدوري، تجارت، زراعت او لهو اولعب کي وخت تيروي اودلمانځه غوندي محبوب سی چي دمسلمان دامتياز او غوره والي نښه ده په دنيا او آخرت کي په کار راتلونکی شی دی هغه قضا کوي مسلمان ته نه ښايي، چي لمونځ په يوه وخت کي هم پريږدي.

[۱۵] شيخ فاني هغه بوډا ته وايي څوك چي دخپلي بوډايي او کمزوري دامله دروژي دنيولو وس نه لري، دداسي سړي دا حکم دی چي دی دي روژه نه نيسي اوفديه دي ادا کړي. (۲)

[۱۶] ديوي روژي فديه په يوه مسکين باندي يوه ورځ دوډۍ خوړل دي، چي څومره روژي يې وخوړي دهري روژي په بدل کي دي دوه وخته مسکين ته دوډۍ ورکړي، ددي ډوډۍ دخوړلو په اړوند شريعت دغنمو نيمه پيمانه او داوربشو پوره پيمانه ټاکلي ده چي دومره غله دي فقير ته ورکړي (۳) صاع تقريبا په انګريزي سير سره چي اتيا تولي دی ددري ۳ مار په اندازه جوړيږي.

[۱۷] شيخ فاني چي روژه نه سي نيولای دهغه څخه لمونځ نه معاف کيږي، په ولاړه دي کوي که يې ددريدلو طاقت نه وي نو په ناسته دي کوي که يې دناستي طاقت هم نه وي نو په اشاره سره دي کوي، (۴) دپورتني ذکر سوي تفصيل مطابق.

= ج۱ ص۱۴۵). ظفير

(۱) ومن أغمي عليه خمس صلوة او دونها قغى وان كان اكثر من ذلك لم يقض (ايظا). ظفير

(۲) فالشيخ الفاني الذى لا يقدر على الضيام يفطر ويطعم لكل يرم مسكينا كما يطعم في الكفارة والعجوز مثله (عالمگيري مصري كتاب الصوم باب خامس ج۱ ص۱۹۴، ط. ماجدية ج۱ ص۲۰۷). ظفير

(۳) يطعم لكل يوم مسكينا كما يطعم في الكفارة كذا في الهداية الخ نصف صاع من بر اوصاع من تمر اوصاعا من شعر (عالمگيري مصري كتاب الصوم باب خامس ج۱ ص۱۹۴، ط. ماجدية ج۱ ص۲۰۷). ظفير

(۴) سئل عن الشيخ الفاني هل تجب عليه الفدية من الصلوة كما تجب عليه عن الصوم وهو حي فقال لا (عالمگيري مصري باب قضاء الفوائت ج۱ ص۱۱۷، ط. ماجدية ج۱ ص۱۲۵). ظفير

[١٨] كم سړی چي مړ سي او دهغه پرغاړه درمضان فوت سوي روژي وي، او هغه دمرګ په وخت كي خپلو وارثانو ته وصيت كړی وي، دهغه پروارثانو دا لازمه ده چي دهغه دروژو شمېر وكړي او دپورته ذكر سوي تفصيل مطابق فديه وركړي كه يي وصيت نه وي كړي نو په وارث باندي ادا كول لازم نه دي، هو! كه يي دخپل لوري ادا كړي نو دا احسان دی، او دالله جل جلاله دذات څخه اميد سته چي هغه يې قبوله كړي.
وصيت زموږ دامام صاحب په نزد ځكه معتبر دی چي دا فديه هم عبادت دی، او عبادت بايد په خپل اختيار او اراده سره وكړل سي او كله چي يي وصيت وكړی نو ادا كول يي لازم دي. ([١])
[١٩] كم سړی چي دمرض په حالت كي خپلو وراثانو ته وصيت وكړي چي پرما باندي دومره لمونځونه قضا پاته دي، دهغوی فديه خو مشائخو منلي ده، او په دي باره كي يي لمونځ دروژې مشابه بللی دی يعني داچي هر لمونځ ديوي روژي حكم لري، كمه فديه چي ديوي روژي لپاره ده هغه ديوه لمانځه لپاره هم ده يعني ديوه لمانځه فديه نيمه پيمانه دغنمو يا يوه پيمانه ([٢])، داوربشو ده.
[٢٠] ولي او وارث ته دهغه له لوري روژه نيول نه ښايي. ([٣])
[٢١] نن صبا چي ډير وس لرونكي مسلمانان په روژه كي دتكليف په وجه خپل ځان عاجز ګڼي او په خپله ځانته دشيخ فاني حكم تجويز كوي دا سراسر غلطه ده، دتعيش په وجه دشرعي تكاليفو ځان خلاصول ددين سره ګستاخي ده، كه چيري داسي سړی دوخت دبادشاه په قيد كي راسي نو دی هغه وخت ولي ځان شيخ فاني نه بولي، بيا خو هرڅه كوي، نو دداسي جرأت څخه بايد مسلمانان خپل ځانونه وژغوري.
دماسخوتن قضا دي دسهار تر لمانځه مخكي ادا كړي: سوال: (١٩٩٥) [١] زه اوس په سفر كي په ناګپور نومي ځای كي يم ددی ځای خلګ ډير دماسخوتن لمونځ قضا كوي او هغه دصبح صادق څخه وروسته دسهار تر لمانځه مخكي ادا كوي، اګركه امام په جمع ولاړ هم وي خو دی لومړی دماسخوتن لمونځ ادا كوي بيا دسهار لمونځ كوي كه څوك دا خيال

([١]) وإذا مات الرجل وعليه صلوات فأوصى ان تعطي كفارة صلوته يعطى لكل صلوة نصف من بر وللوتر نصف صاع ولصوم يوم نصف صاع من ثلث ماله الخ فإن لم يوص لورثة وتبرع بعض الورثة يجوز (عالمگيري مصري باب قضاء الفوائت ج١ ص١١٧، ط. ماجدية ج١ ص١٢٥). ظفير
([٢]) إذا مات الرجل وعليه صلوات فائتة فأوصى بأن تعطى كفارة صلوته يعطى لكل صلاة نصف صاع من بر وللوتر نصف صاع (عالمگيري مصري باب قضاء الفوائت ج١ ص١١٧، ط. ماجدية ج١ ص١٢٥). ظفير
([٣]) ولو أمر الأب ابنه ان يقضي عنه صلوة وصيام ايام لايجوز عدنا كذا في التتارخانية (عالمگيري مصري باب قضاء الفوائت ج١ ص١١٧، ط. ماجدية ج١ ص١٢٥). ظفير

وکړي چي دسهار لمونځ به راځخه ولاړسي نو وتر خو حتما کوي بیا دسهار لمونځ کوي او دماسخوتن فرض دلمر دراختلو وروسته ادا کوي دماپښین لمونځ قضا کوي او بیا یې دمازدیګر په اخر وخت کي دمازدیګر دلمانځه سره کوي په داسي حالت کي چي جمع ولاړه وي په دي صورت کي مسئله څنګه ده؟

چي دماسختن لمونځ قضا سي نوتر څه وخته یې ادا کولای سي؟ **سوال**: (١٩٩٦) [٢] که چیري دماسخوتن لمونځ قضا سي نو تر کمه وخته یې ادا کول په کار دي؟

ترصبح صادق وروسته: **سوال**: (١٩٩٧) [٣] دصبح صادق تر راښکاره کیدو وروسته دتلاوت سجده کیدای سي او که نه؟ دسهار دلمانځه پرته بل لمونځ دلمر تر راختلو پوري کولای سي او که نه؟

دماپښین قضا ترمازدیګر مخکي په کار ده او که نه؟ **سوال**: (١٩٩٨) [۴] دماپښین قضا لمونځ دمازدیګر دلمانځه سره یعني دمازدیګر دلمانځه مخکي ادا کول په کار دي او که نه یعني دواړه لمونځونه دماښام څخه لږ مخکي ادا کولای سي او که نه؟

دماښام دجمعې په وخت کي دقضا ادا کول صحیح دي: **سوال**: (١٩٩٩) [۵] دماښام جمع ولاړه ده یو سړی خپل مخکنی لمونځ یا دماپښین یا دمازدیګر ادا کوي دا صحیح ده او که نه؟

ددوو کالو قضا کله ادا کړي؟ **سوال**: (٢٠٠٠) [٢] دکم سړي پرذمه چي ددوو کلو قضا لمونځونه وي هغه به دا لمونځونه کم وخت او په کم ترتیب سره ا دا کوي؟

جواب: [١] دترتیب دځښتن لپاره یعني دچا په ذمه چي شپږ لمونځونه یا تر دي زیات قضا نه وي دا حکم دی چي کم لمونځ ورڅخه فوت سي هغه دي تر بل لمانځه مخکي ادا کړي، اوکه چیري دبل لمانځه جمع ولاړه وي نو په هغي کي دي نه شریکیږي خپل فوت سوی لمونځ دي مخکي ادا کړي بیا دي وقتیه لمونځ وکړي مثلاً که چیري بیده سو یا په بله کمه وجهه ور څخه دماسخوتن لمونځ قضا سو او صبح صادق راوختی یا دسهار جمع ودریده نو دی دي اول دماسخوتن لمونځ سره دوترو وکړي بیا دي دسهار لمونځ وکړي اګرکه جمعه نه کړي پیدا. (١)

[٢] تحیة الوضوء او نور نوافل نسي کولای (٢) او قضا لمونځ ادا کولای سي (٣) کذا في

(١) من فاتته صلوة قضاها إذا ذكرها و قدمها على فرض الوقت الخ ومن صلى العصر وهو ذاكر أنه لم يصلي الظهر فهي فاسدة إلا إذا كان في آخر الوقت (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٧ – ١٣٩). ظفير

(٢) ويكره أن يتنفل بعد طلوع الفجر باكثر من ركعتي الفجر (هدايه كتاب الصلوة فصل في الأوقات المكروهة ج١ ص٨٢). ظفير =

الدر المختار۔

[٣] دتلاوت سجده کولای سي او دجنازي لمونځ او فوت سوی لمونځ هم په دغه وخت کي صحيح دی کذا في الدر المختار: لايکره فائتة او سجدة تلاوة وصلوة جنازة (١) الخ

[۴] دماپښين قضا سوی لمونځ بايد دمازديګر څخه مخکي وکړل سي، له هغه وروسته دمازديګر لمونځ کول په کار دي۔ (٢)

[۵] دترتيب څښتن ته همداسي کول ښايي، چي هغه دي خپل دمازديګر يا ماپښين فوت سوي لمونځونه دماښام تر لمانځه مخکي وکړي، کما مر تفصيلة كذافي الدر المختار۔

[٦] دکم سړي پرذمه چي ددوو کلو قضايي لمونځونه وي پرهغه باندي دفوت سوو لمونځونو په قضا راوړلو کي څه ترتيب لازم نه دی په هروخت کي چي څومره لمونځونه ادا کولای سي ادا دي کړي که داسي کوي چي دهروختي فرض سره دهغه وخت لمونځ راګرځوي مثلا دماپښين دلمانځه مخکي يا وروسته دي ديوه ماپښين قضا راوګرځوي؟ اوکه ډېر ګنجايش وي نو ډېر دي راوګرځوي. فقط (٣)

دسهار قضا دماپښين داذان څخه مخکي وکړي که وروسته؟ سوال: (١ ٠ ٠ ٢) [١] که دسهار لمونځ قضا سو او دماپښين په مهال يي دقضا راګرځولو موقع برابره سوه نو داذان سره لمونځ کول په کار دي که له اذانه پرته؟

دقضا لپاره اذان کيږي اوکه نه اودهر لمانځه لپاره به بيل بيل وي که يو کافي دی؟ سوال: (٢ ٠ ٠ ٢) [٢] که چيري لمونځ پنځه وخته قضا سو نوپه ټولو وختونو کي داذان ويلو اړتيا ده اوکه يواځي په يوه وخت کي؟

جواب: [١] که چيري دځانته يعني منفرد سړي لمونځ قضا سو نو هغه دي پرته له اذان او اقامت څخه ددغه لمانځه قضايي راوګرځوي۔ (۴)

---

(٣) ويكره أن يتنفل بعد الفجر حتى تطلع الشمس الخ ولا بأس بأن يصلي في هذين الوقتين الفوائت ويسجد للتلاوة (ايضا) ج١ ص٨١). ظفير

(١) الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصلوة ج١ص٣١٢، ط.س. ج١ ص٣٧٥. ظفير

(٢) ومن صلى العصر وهو ذاكر أنه لم يصل الظهر فهي فاسدة إلا إذا كان في آخر الوقت (باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٩). ظفير

(٣) إلا أن يزيد الفوائت على ستة صلوات لأن الفوائت قد كثرت فتسقط الترتيب فيما بين الفوائت بنفسها كما يسقط بينهما وبين الوقتية (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٨). ظفير

(۴) ويسن أن يؤذن ويقيم للفائتة رافعا صوته لو بجماعة او صحراء لا بيته منفردا (درمختار) لو بجماعة اى في غير المسجد بقرينة ما يذكره قريبا من انه لايؤذن فيه للفائتة (رد المحتار باب الأذان ج١ ص٣٢٣، ط.س. ج١ ص٣٩٠). ظفير

[٢] كه چيري په قضا كي جماعت وي (يعني په جمع سره قضايي لمونځ راګرځوي) نو دلومړي لمانځه لپاره دي اذان او اقامت وويل سي، دنورو لمونځونو لپاره اختيار دی كه يي وايي اوكه نه او اقامت دي دټولو لپاره وويل سي. ([1])

دپنځوسو كلونو قضا لمونځونه اودهغو ادا كول: **سوال**: (٣ ٠ ٠ ٢) دزيد ډير لمونځونه دځوانی څخه پيل تر څلويښتو كلونو پوري قضا سوي دي او اوس هغه دتوبي وروسته لمونځ كوونكی سو آيا ددغو قضا لمونځونو تدارك په توبو او تضرع "زاريو" سره كيږي اوكه دهر لمانځه څخه وروسته دقضايي عمري په ډول قضا راګرځول په كار دي، اوكه چيري دده ژوند تلافي دمافات ونه كړی سي نو ايا دتوبي سره سره به دده پراوړو دادروند بار پاته وي په حديث شريف كي خو: التائب من الذنب كمن لا ذنب له الفاظ راغلي دي؟

جواب: په زيد باندي دتيرو سوو ټولو لمونځونو قضا راګرځول لازم دي، او لكه څرنګه چي راتلونكي لمونځونه دده پرذمه فرض دي همدغه ډول فوت سوي لمونځونه ادا كول ورباندي لازم دي دهغو دقضا راګرځولو كمه طريقه چي اسانه ښكاري هغه دي غوره كړي چي دهر ([2]) وخت دفرضو سره دهغه لمانځه قضا راګرځوي يا دوه دوه څلور څلور دي په يوه وخت كي راوګرځوي، اوكه چيري په ژوند كي يي تلافي دمافات ونه كړی سول نو په اخري وخت كي دفديي دادا كولو وصيت كول لازم دي تر څو دده وارثان دده څخه وروسته دباقيمانده لمونځونو فديه وركړي.

او داحديث التائب من الذنب كمن لاذنب له ([3]) مطلب دادی چي دلمونځونو دځنډولو يا په خپل وخت دپريښودلو چي كمه ګناه ده هغه به په توبه سره وبخښل سي او داخبره دي واضحه وي چي لكه څنګه چي دبندګانو دحقونو توبه ده چي دهغو حقوق وركړي او دچا چي څه حق دی هغه ادا كړي هغه وخت به يي توبه قبليږي همدغه ډول دحقوق الله توبه ده لكه لمونځ روژه زكوة، اونور چي ادا سوي نه دي دهغو توبه داده چي هغه دي ادا كړي نو دادا كولو پرته هغه بالكل تائب نه سو چي دالتائب من الذنب كمن لاذنب له په حكم كي داخل سي، والله ولي التوفيق. فقط

([1]) ويسن أن يؤذن ويقيم للفائتة رافعا صوته لو بجماعة او صحراء لا بيته منفردا (درمختار) لو بجماعة اى في غير المسجد بقرينة ما يذكره قريبا من انه لايؤذن فيه للفائتة (رد المحتار باب الأذان ج١ ص٣٢٣، ط.س. ج١ ص٣٩٠). ظفير

([2]) وقضاء الفرض والواجب والسنة فرض وواجب وسنة لف ونشر مرتب وجميع اوقات العمر وقت للقضاء (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفير

([3]) مشكوة باب التوبة والإستغفار ص٢٠٢. ظفير

داحتلام په مهال دي دغسل كولو وروسته لمونځ ادا كړي او دوخت دختميدلو وروسته دي قضا را وګرځوي: **سوال**: (٢٠٠٤) كه چيري دصبح صادق په وخت كي چاته احتلام وسو هغه لمونځ څه ډول ادا كړي؟

جواب: غسل دي وكړي او دسهار لمونځ دي ادا كړي كه چيري وخت پاته وي نو همدغسي دي وكړي اوكه وخت نه وي نو دلمر دراختلو وروسته دي دسهار. لمونځ دسنتو سره ادا كړي. (١)

دبلوغ څخه وروسته دقضا سوو لمونځونو ادا كول ضروري دي: **سوال**: (٢٠٠٥) دقضاء عمري روژه نيول او لمونځ كول. فرض دي اوكه نه؟ يوه سړي دديرشو كالو وروسته دلمانځه او روژي پابندي كړي ده؟

جواب: دبلوغ څخه وروسته چي څومره روژي او لمونځونه دهغه قضا سوي وي هغه دي راوګرځوي. (٢)

كه دقضا شمير ورته ياد نه وي نوپه فكر كولو سره دي شميره ورته وټاكي: **سوال**: (٢٠٠٦) ديوه سړي څخه دناروغي له امله ددريو څلورو كالو لمونځونه قصا سوي دي، ليكن شميره يي ورته ياده نه ده دبيماری څخه وروسته يي څه قضا لمونځونه راوګرځول ليكن دهغو شمېر هم ورته يادنه دی اوس دی بايد څومره نور راوګرځوي؟

جواب: په داډول صورت كي دي دتخمين اواټكل په مرسته باندي تعداد معلوم كړي اوقضا راوګرځوي. فقط

قضا يې ادا نه كړه او دمرګ په مرض اخته سو نو څه وكړي؟ سوال: (٢٠٠٧) كه چيري دقضا راګرځولو وخت پيدا نه سي او په مرض الموت كي اخته سي او دفديي طاقت يي نه وي نو دمؤاخذي څخه دخلاصون يي څه طريقه ده؟

جواب: دفوت سوو لمونځونو ادا كول يا فديه وركول هم دعذاب دليري كيدلو موجب كيداى سي، نور دالله ﷻ خپله خوښه ده لكه څنګه چي يې فرمايلي دي: ويغفر ما دون ذلك لمن يشاء. فقط

دسهار دلمانځه وروسته دلمر تر راختلو مخكي دقضا ادا كول صحيح دي: **سوال**: (٢٠٠٨) كه

---

(١) ولا تقضيها إلا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لا بعده في الأصح لورود الخبر بقضائها في الوقت المهمل (درمختار) قوله لورود الخبر وهو ما روى انه صلى الله عليه وسلم قضاها مع الفرض غداة ليلة الحريس بعد إرتفاع الشمس كما رواه مسلم (رد المحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٧٢، ط.س. ج٢ ص٥٧). ظفير

(٢) وقضاء الفرض الخ فرض الخ و جميع اوقات العمر وقت للقضاء (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٦). ظفير

یـو سـړی دسـهار دلمانځـه وروسـته دلمـر تـر راختلـو مخکـې او یـا دمـازدیگر دلمانځـه وروسته تر لمر لویدلو مخکې قضا لمونځ کوي، جواز لري اوکه نه؟

جواب: جواز لري. (١)

دچا ځخه چې دمازدیګر لمونځ قضا سي نو هغه ماښام لومړی قضا وکړي که ادا؟ سوال: (۲۰۰۹) که چیري دیوه سړي ځخه دمازدیګر لمونځ قضا سي او دماښام وخت وربانـدي راسي نو هغه په جمعه کي ګډون وکړي اوکه مخکي دمازدیګر لمونځ وکړي؟

جواب: کـه دا سـړی دترتیب ځبښتن وي نـو مخکـي دي دمـازدیګر لمـونځ وکـړي، اګـر کـه دماښام جمع ورځخه تیره سي. (٢) فقط

په جمع سره قضا صحیح نه ده: سوال: (۲۰۱۰) یوه امام قضاء عمري په جمع سره وکړه آیا دامام صاحب رحمه الله په مذهب کي دا جواز لري؟

جواب: داسي کول شرعـا جائز نه دي، امام اعظم رحمه الله دي ته ناجائز وایي. (٣)

قضا لمونځ او روژه یوازي په توبه سره نه بخښل کیږي: سوال: (۲۰۱۱) ایـا روژي او فـوت سوي لمونځونه یوازي په توبه سره بخښل کیږي؟

جواب: یوازي په توبه سره نه بخښل کیږي بلکه دهغو قضا لازمه ده. فقط (٤)

له مرګه وروسته دلمانځه کفاره

دلمونځونو کفاره دمرګ ځخه وروسته ده په ژونـد کـي هـم ده؟ سوال: (۲۰۱۲) یـو سـړی ناجوړه دی دهغه ځخه لمونځونه قضا سوي دي، دصحبت امید یي کم دی دلمانځه کفاره یـي پـه ژونـد کـي ورکـړه سـي کـه دوفـات ځخـه وروسـته؟ او دلمانځـه کفـاره ځـه ده؟ او دلمانځه په کفاره کي نقدي ورکول ښه دي که غله او که دیني کتابونه واخستـل سي او

---

(١) وکره نفل الخ بعد صلوة فجر وصلوة عصر الخ ولا یکره قضاء فائتة ولو وترا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلوة ج١ ص٣٤٧ – ٣٤٨، ط.س. ج١ ص٣٧٤). ظفیر

(٢) ومن فاتته صلوة قضاها إذا ذکرها وقدمها علی فرض الوقت الخ ومن صلی العصر وهو ذاکر أنه لم یصلي الظهر فهی فاسدة إلا إذا کان في آخر الوقت (هدایه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٧ – ١٣٩). ظفیر

(٣) دقضاءعمری ځخه که چیری مخصوص رکعتونه په ځانګړي هیئت او ترتیب سره مراد وي نو ددي هیڅ ثبوت په شریعت کي نسته اوکه چیري قضا سوي لمونځونه مراد وي نو بیایي تعین ضروري دی، او هغه هم علی الاعلان کول نه دي په کار فقهاء صراحت کوي: ویکره قضاءها فیه لأن التأخیر معصیة فلا یظهرها (درمختار) لأن التأخیر معصیة إنما یظهر ایضا في الجماعة لا المنفرد الخ کما قدمناه عن القهستاني علی أنه إذا کان التفویت لأمر عام لا یکره ذلك للجماعة ایضا لأن هذا التاخیر غیر معصیة هذا، ویظهر من التعلیل أن المکروه قضاءها مع الإطلاع علیها ولو في غیر المسجد (رد المحتار باب الأذان ج١ ص٣٢٣، ط.س. ج١ ص٣٩١). ظ

(٤) قضاء الفرض الخ فرض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٦). ظ

كمي اسلامي مدرسي ته وسپارل سي؟

جواب: دلمونځونو كفاره دوفات څخه وروسته وركول ښايي، په ژوند كي دلمونځونو دكفاري حكم نسته، او ديوه لمانځه كفاره په انگريزي وزن سره پاو كم دوه سيره غنم دي، په شپه او ورځ كي شپږ لمونځونه شميرل په كار دي يعني دوترو سره (١) نو ديوي ورځي دلمونځونو كفاره لس نيم سيره غنم سوه، دی اختيار لري كه غنم وركوي او كه نقدي خو نقدي غوره دي ځكه په هغو باندي ټولي اړتياوي پوره كيداى سي (٢) اوكه چيري ديني كتابونه واخلي او ور يې كړي نو داهم صحيح ده ليكن بيا به دا اړينه وي چي هغه كتابونه په طالبانو وويشي او هغوی يې څښتنان وگرځول سي په مدرسوكي چي په كم ډول كتابونه وقف وي په هغه ډول جائز نه دي په دي سره كفاره نه ادا كيږي.

كه دلمونځ نه كوونكي دلوري وارثان فديه وركړي نوهغه به خلاصون ومومي اوكه نه؟ سوال:

(٢٠١٣) زيد دڅلويښتو كالو په عمركي وفات سو او ديوه وخت لمونځ يې هم نه وو ادا كړی دهغه وارثان غواړي چي دهغه له لوري كفاره ادا كړي كه چيری په داسي حالت كي دهغه وارثان كفاره ادا كړي نو ايا دهغه غاړه به خلاصه سي؟ او دفرض دپريښودلو سوال به ورڅخه كيږي اوكه نه؟ كه يې غاړه خلاصيږي نو ايا دا صورت به مالداران دلمانځه په پريښوولو زورور نه كړي؟

جواب: دمړي دوصيت څخه پرته او دمال دپريږ ښوولو پرته پروارثانو كفاره ادا كول واجب نه دي، كه چيري تبرعا دهغه دلمونځونو كفاره وركړي نو صحيح ده، او ډيره ښه خبره ده، أميد سته چي الله ﷻ دهغه دگناهونو څخه ورتير سي اوكم سړی چي دڅلويښتو كالو په عمر كي وفات سو دهغه پرذمه تقريبا دپنځه ويشتو كلونو دلمونځونو فديه لازمه ده، ځكه چي دپنځلسو كلونو په عمركي بالغ شميرل كيږي، په هر حال په اوسني حالت كي دوارثانو فديه وركول غوره دي په دي كي څه بدوالی نسته، اگر كه دا يقين نسته چي مړی به خلاصون ومومي ليكن دخلاصون اميدونه سته، او دفديې ادا كول دلمانځه په پرې ښودو څوك زورور نه جوړوي ځكه دلمانځه پريښودونكي ته خو اول دا يقين نسته چي دهغه وارثان به دهغه دلمونځونو فديه ادا كړي اوكه نه؟ بل

(١) ولومات وعليها صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطي لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وانما يعطى من ثلث ماله الخ ولو فدى عن صلوته في مرضه لايصح بخلاف الصوم (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٥ – ٦٨٦، ط.س. ج٢ ص٧٢). ظفير

(٢) قوله نصف صاع من بر اى اومن دقيقه او سويقه او صاع تمر او ذبيب او شعير او قيمته وهى افضل عندنا لإسراعها بسد حاجة الفقر (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٦، ط.س. ج٢ ص٧٢). ظفير

دوصيت نه كولو او مال نه پريښودلو په صورت كي دوارثانو په تبرعا فديه وركولو سره دمړي خلاصون هم يقيني نه دی، په هر حال دفرض پريښودل لويه ګناه ده، ددي سوال به هرومرو كيږي كه يي فديه وركړه اوكه نه نور نو بخښنه دالله جل جلاله په واك كي ده (١) ويغفر مادون ذلك لمن يشاء. فقط

دلمونځ نه كوونكي دلمانځه كفاره كله ضروري ګرځي؟ سوال: (٢٠١٤) زيد بې لمانځه سود خور مړ سو دمرګ څخه وروسته يي ځينو عالمانو تخمينا دشپږو مياشتو كفاره وايستله يوه برخه يي په خپل تصرف كي واخسته او يوه برخه يې په فقيرانو او مسكينانو وويشله داسي كفاره ويشل جائز دي او كه نه؟

جواب: دلمانځه اوروژي فديه دمړي دمال دپريښودلو او دوصيت كولو پرته په وراثانو باندي لازمه نه ده، كه يي هغوی وركړي نو دا تبرع ګڼل كيږي احتمال سته چي فديه به ادا سي، ليكن قطعي حكم نه سي كيدای، قال في الدرالمختار: ولوماتا وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله الخ الشامي، زاد في الإمداد: ولم يوص بشيئ واراد الولي التبرع الخ واشار بالتبرع إلى أن ذلك ليس بواجب على الولي. (٢) فقط

كه چيري مړ كيدونكي دقضا سوو لمونځونو دفديي وركولو وصيت وكړي نودملل ددريمي برخي څخه دي وركړل سي: سوال: (٢٠١٥) زيد مړ سو او وصيت يي وكړی چي: زما دقضا سوو لمونځونو فديه وركړی، لكه څنګه چي دپنجاب په ډيرو ځايونوكي خلګ دمړي سره غله او نور شيان وړي نو دا صحيح ده اوكه نه ؟

جواب: كه چيري زيد څه مال هم پريښوولی وي او وصيت وكړي چي زما دقضا لمونځونو فديه وركړی نو دفديي وركول پروراثانو لازم ګرځي، دمال تردريمي برخي به دا وصيت نافذ كيږي، په درمختار كي دي: ولومات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله. (٣) الخ

---

(١) ولومات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة ويعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله (درمختار) اى يعطى عنه وليه الخ إن اوصى وإلا فلا يلزم الولى ذلك الخ أما إذا لم يوص فتطوع بها الوارث فقد قال محمد في الزيادات أنه يجزيه ان شاء الله تعالى فعلق الإجزاء بالمشية لعدم النص (ردالمحتار باب قضاء الفوائت مطلب في اسقاط الصلوة عن الميت ط.س. ج٢ ص٧٢). ظفير

(٢) ردالمحتار باب قضاء الفوائت مطلب إسقاط الصلوة عن الميت ج١ ص٦٨٥ – ٦٨٦، ط.س. ج٢ ص٧٢. ظ

(٣) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت مطلب في إسقاط الصلوة ج١ ص٦٨٥ – ٦٨٦، ط. س. ج٢ ص٧٢. ظفير

دروژي او لمانځه لپاره وصيت اودهغه ادا كول: **سوال**: (٢٠١٢) ديوه سړي ښځه دشپږو مياشتو ناجوړتيا وروسته وفات سوه ددي ښځې لس دوولس ورځي لمونځونه دناروغۍ له كبله قضا سوي دي، او درمضان ديوي مياشتي روژي هم دمرګ په مهال ښځي خاوند ته وويل چي زما دومره لمونځونه اويوه مياشت روژي قضا سوي دي دهغو عوض وركړي، دلمونځونو بدله څه وركړل سي، مسكينانو باندي ډوډۍ وخوړل سي او كه نقدي وركړي؟ او دروژي عوض څه وركول ښايي او ايا دهغي خاوند دهغې له لوري روژي نيولای سي؟

جواب: دلمونځونو او روژو فديه كه نقدي وركړل سي او كه غله دواړه صحيح دي، ديوه لمونځ فديه په انګريزي وزن سره پاوكم دوه سيره غنم او يا دهغو قيمت نقدي دي، همدغه ډول ديوي روژي فديه هم همدومره ده، نو دټولو لمونځونو سره دي دوترو حساب هم وكړي، او دديرشو روژو حساب دي وكړي، يو شواروز شپږ لمونځونه سول نو ديوه شواروز دلمونځونو فديه لس نيم سيره غنم يا دهغو قيمت سو، او روژه نيول دهغي دلوري معتبر نه دي، يواځي فديه وركول ښايي. ([1]) فقط

كه چيري دوصيت سره سره وارثان كفاره ورنه كړي نو څه حكم لري؟ **سوال**: (٢٠١٧) زيد وفات سو دزيد وارثانو دهغه دمړيني وروسته دهغه يوه ليكل سوي وصيت نامه پيدا كړه زيد په هغه كي ليكلي دي چي ديوڅو كالو دلمانځه قضا او تقريبا ددوو مياشتو روژو قضا پرما باندي واجب الاداء ده، زما دمرګ څخه وروسته دي زما دمتروكه جايداد څخه فديه ادا كړل سي، ايا دزيد دوارثانو پرذمه شرعا دنوموړي وصيت ادا كول واجب دي اوكه نه؟ كه چيري واجب وي نو ديوه لمانځه څومره فديه واجبه ده؟ او ديوي روژي څوومره، اوكه دزيد وارثانو دهغه دمتروكه جايدادسره سره دهغه فديه ادا نه كړه نو ايا دوی به دالله ﷻ په وړاندي ګنهګار وي اوكه نه؟ اوزيد به دمؤاخذي څخه خلاص وي اوكه نه؟

جواب: دكم سړي پرذمه چي لمونځ يا روژي واجب الاداء وي، او دهغه سره مال وي نو پرهغه باندي دمرګ په مهال وصيت كول لازم دي، او دمال پريښودلو او وصيت كولو په صورت كي دمړي پروارثانو ددي وصيت پوره كول ددريمي برخي دمال څخه واجب دي، او په شامي كي دي: يعطى عنه وليه اى من له ولاية التصرف في ماله بوصاية او وراثة

([1])ولو مات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٥، ط.س. ج٢ ص٧٢. ظفير

فیلزم ذلك من الثلث إن أوصى وإلا فلا یلزم الوصي ذلك. (١) او دیوه لمانځه فدیه دصدقه فطر په اندازه ده یعني نیمه پیمانه غنم یا یوه پیمانه وربشي، یا ددوی قیمت او همدومره مقدار دیوي روژي دی لیکن په لمانځه کي دهري ورځي دشپږو لمونځونو حسابول په کار دي ځکه چي وتر واجب هم دفرضو په حکم کي دي او دمړي وارثان که چیري دمړي دوصیت او مال پرینبودني سره سره بیا هم دهغه وصیت دمال ددریمي برخي څخه ادا نه کړي نوګنهګار به وي او مړی په هم داخروي مؤاخذي څخه خلاصون نه کړي پیدا ترڅو پوري چي الله جل جلاله معاف کړی نه وي. (٢) فقط

<u>که دقضا سوو لمونځونو شمیر معلوم نه وي نوپه اندازه لګولو سره دي فدیه ورکړي</u>: سوال:
(٢٠١٨) نوموړي وفات سوي زید دخپلو قضا لمونځونو په هکله په خپله وصیت نامه کي لیکلي دي چي: دشپږو کلونو قضا لمونځونه زما پرذمه باندي واجب دي چي په هغوکي مي ددریو کالو اونهو میاشتو قضا راګرځولي ده اود ذوالقعدي دپنځمي **۵** کال **١٣٣۴** هـ څخه مي روزانه دیوي ورځي قضا لمونځونه راګرځول شروع کړي وه، دهغه ددي لیکني څخه علاوه نور تحریر نه موندل کیږي، چي ترڅو پوري یي قضا لمونځونه کړي دي ممکنه ده چي پاتي ټول لمونځونه یي ادا کړي وي، او ددي هم احتمال سته چي دیوه لمانځه پرته دبل لمانځه قضا یي نه وي راوړي، په دي صورت کي شرعا دمتوفي دمتروکي څخه فدیه ادا کړله سي اوکه نه؟ که چیري په دي صورت کي فدیه واجبه نه وي خوځه رقم په فدیه کي ورکړل سي، نو موړي ته به یي ثواب رسیږي اوکه نه؟ او دنورو ګناهونو کفاره به وګرځي اوکه نه؟

جواب: دمړي په ذمه چي دڅومره لمونځونو او روژو قوي احتمال وي هغومره فدیه دي ددریمي برخي مال څخه ورکړل سي او په دغه تحریر کي دوصیت ذکر نسته ترڅو دفدیي دوجوب حکم ورڅخه وسي ددي څخه دلمونځونو معلومات کیدای سي چي هغه څومره لمونځونه دیاد سوي تاریخ څخه وروسته را ګرځولي او څومره پاته دي، یعني دمرګ دتاریخ حساب لګیدای سي لیکن احتیاط په دي کي دی چي دکم تاریخ څخه یي دلمونځونو قضا شروع کړي ده دهغه تاریخ څخه دي دلمونځونو حساب وکړل سي، دمړیني تروخته پوري لومړی دي دوصیت فدیه دروژي او لمانځه ادا کړل سي اوکه فدیه

(١) رد المحتار باب قضاء الفوائت مطلب إسقاط الصلوة عن المیت ج١ ص**٦٨۵**، ط.س. ج٢ ص٧٢. ظفیر
(٢) ولومات وعلیه صلوات فائتة واوصى بالکفارة یعطى لکل صلوة نصف صاع من بر کالفطرة وکذا حکم الوتر والصوم وإنما یعطى من ثلث ماله (درمختار) اى یعطى عنه ولیه اى من له ولایة التصرف في ماله بوصایة او وراثة فیلزمه ذلك من الثلث إن اوصى (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص**٦٨۵**، ط. س. ج٢ ص٧٢). ظفیر

ډيره ولاړه سي نو ثواب به يي مړي ته رسيږي او دګناهونو دكفاري باعث به سي، قال الله تبارك وتعالى: إن الحسنات يذهبن السيئات.

په فديه كي دغنمو پرته نوره غله يا قيمت ادا كول هم صحيح دي: سوال: (٢٠١٩) كه يې چيري په فديه كي غنم ادا نه كړل، بلكه قيمت يا بله غله يي مستحقينو ته وركړه نو دا فديه به ادا سي اوكه نه؟ او دغنمو څخه پرته دنوري غلي څومره مقدار ادا كړل سي، او دفديي ډير مستحق خلګ څوك دي كه چيري دفديي رقم اسلامي مدرسوته دطالبانو لپاره وليږل سي اودمني آرډر فيس اونور اخراجات به په فديه كي شمارل كيږي اوكه نه؟

جواب: په فديه كي كه ډوډۍ په چا وخوری كه غله وركوی اوكه دهغه قيمت خيرات كوی ټول صحيح دي دغنمو، وربشو او نورو علاوه كم شيان چي غير منصوصه دي لكه جوار، دهغو دومره اندازه وركول په كاري دي چي قيمت يي دنيمي پيماني (صاع) غنمو سره برابروي او ديوي پيماني(صاع) وزن په انګريزي تول سره درى سيره او شپږ چيټاكۍ وي چي دهغه نيمايي چيټاكۍ كم پاوكم (١) دوه سيره سوه. او ددي مصرف هغه دى كم چي دزكوة او صدقه فطر مصرف دى (٢) او ډير مستحق ددي هغه خلګ دي چي هغه ډيره اړتيا لري، لكه قرضداران او نور، اوكه چيري مدرسي ته دطالبانو لپاره وليږل سي نو داهم ښه مصرف دى، ليكن دمني آرډر فيس اونور به په دي كي نه حسابول كيږي. فقط

دكفاري رقم په جومات يا څاه كي مصرفول صحيح دي اوكه نه؟ سوال: (٢٠٢٠) يوه انجلي سخته ناجوړه ده، دهغي دوراثانو دا خيال دى چي دهغي دلمانځه كفاره دي دهغي په ژوند كي وركړل سي دهغي جوړيدل ناممكن دي يا دي دهغي قيمت په مكه كي وركړي يادي جامي او نور شيان غريبانو ته په جوړ كړي يا كه څوك حج ته ځي هغه ته دي امانت په ډول وركړي چي هلته يې مسكينانو ته وركړي، يادي په جومات كي ولګوي او يا دجومات په څاه كي، داټول څه حكم لري؟

جواب: دمريض دلمانځه او روژو فديه دموګ څخه وروسته وركول كيږي، ځكه چي په ژوند كي تر اوسه پوري دادا كولو حكم دى اګركه په اشاري يا بله طريقه سره وي، لنډه داچي دلمانځه او روژي كفاره دمرګ څخه وروسته وركول په كاردي، او داهم شرط دى

(١) يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم (درمختار) قوله نصف صاع من بر الخ اى او من دقيقه او سويقه او صاع تمر او زبيب او شعير او قيمته وهى افضل عندنا لإسراعها بسد حاجة الفقير (رد المحتار باب قضاء الفوائت المطلب في اسقاط الصلوة عن الميت ج١ ص٦٨٥، ط. س. ج٢ ص٧٢). ظفير

(٢) اى مصرف الزكوة والعشر (درمختار) وهو مصرف ايضا لصدقة الفطر والكفارة والنذر وغير ذلك من الصدقات الواجبة كما في القهستاني (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص٧٩، ط.س. ج٢ ص٣٣٩). ظفير

چي مړی به وصيت كوي. نو دوفات څخه وروسته چي څومره روژي او لمونځونه دهغه پړذمه وي دهغو كفاره دي په دي ډول ادا كړي چي دهر لمانځه په عوض كي دي پاوكم دوه سيره غنم په انګريزي وزن سره يا دهغو قيمت، مسكينانو ته وركړي او همدغه ډول ديوي روژي كفاره هم همدومره ده [1] بيا كه داقيمت مسكينانو، غريبانو او كونډو رنډو، او يتيمانو ته وركوي اوكه يي دمدرسي مسكينانو طالبانو ته وركوي، اوكه جامي ورباندي اخلي او په غريبانو يي ويشي دا ټول جائز دي اودا هم صحيح دي چي هغه چاته يي وركړي څوك چي حج ته درومي ترڅو يي دمكي معظمي اومديني منوري په مسكينانو وويشي ليكن غوره داده چي دخپل ښار مسكينانوته يي وركړي، اوپه جومات يا خاه كي لګول صحيح نه دي. فقط

<u>داسقاط دحيلي شرعي حيثيت څنګه دی؟</u> سوال: (٢٠٢١) [١] دحيله اسقاط دری قسمه چي دفقهي په كتابونو كي ليكلي دي چي: دمړي ټول فرائض واجبات او نور دي وشميري دهغو په فديه كي چي كم غنم وټاكل سي نو بيا دي څه غنم راوړي، يا دي دټاكلو غنمو قيمت وټاكي بيا دي يو ذي قيمته شی وارث فقير ته وركړي همدغه ډول دي تكرار كوي ترڅو دفديي دمقررو غنمو قيمت پوره سي نو فديه به ادا سي اوكه نه؟

<u>قرآن مجيد په فديه كي ادا كول څنګه دي؟</u> سوال: (٢٠٢٢) [٢] دمړي وارث دقرآن مجيد قيمت په دغه فديه كي دمقررو غنمو برابر كړي اوپه يوه ملا يا فقير يې خرڅ كړي، او هغه قيمت په هغه باندي قرض كړي، او هغه قرض دمړي ددي مقرري فديې په بدله كي دغه اخيستونكي ته ور وبخښي؟

<u>دقرآن كريم قيمت</u>: سوال: (٢٠٢٣) [٣] دمړي وارث دقرآن كريم قيمت دمړي په فديه كي دمقررو غنمو برابركړي، يوه ملا يا فقير ته هغه قرآن كريم په يو ځل ددغي فديي په بدله كي ور وبخښي دا دری واړه صورتونه صحيح دي اوكه نه؟

جواب: [١-٢-٣] په دي كي چي كمه حيله فقهاوو ليكلي ده هغه دوارثانو دناداری او مسكنت په صورت كي يواځي دتبرع په ډول سره فقهاوو ليكلي وه چي كه چيري داړتيا په مهال داسي وكړل سي نو اميد سته چي دمړي دذمي فرائض به ادا كړل سي، ليكن په دي حيلوكي چي نور كم مفاسد مخ ته راځي چي وارثان سره دوس لرلو دمالل فديه پوره

---

[1] ولومات وعليه صلوات فائتة واوصى يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله (درمختار) قوله عليه صلوات فائتة اى بأن كان يقدر على ادائها ولو بالإيماء فيلزمه الإيصاء وإلا فلا يلزمه وإن قلت (ردالمحتار) باب قضاء الفوائت مطلب في إسقاط الصلوة عن الميت ج١ ص٢٨٥ – ٢٨٦، ط.س. ج٢ ص٧٢). ظفير

ادا کول نه غواړي او حیله کوي، او ددي پرته نور مفاسد شرعیه هم په دي حیلو کي سته چي دهغو له امله دداسي حیلو څخه منع کول کیږي. (۱) فقط

دوصیت څخه وروسته دترکي ددریمي برخي څخه دلمونځونو فدیه ضروري ده: **سوال**: (۲۰۲۴) زما خدای بخښلي مور دمړیني په مهال ویلي وه چي زما دلمونځونو فدیه ورکړی. ددي څخه ځانګړي فدیه مراد ده اوکه څومره چي کیدای سي که چیري فدیه مراد وي نو دمقدار تعین ګران دی، ځکه چي کم لمونځونه ادا سوي نه دي دهغو هیڅ شمیر نه دی معلوم، اوکه دي دا وصیت وګڼل سي او یو ثلث دي ورکړل سي، او ددي مصرف څه دی دجومات په فرش، څپر او نورو حوائجو کي لګول صحیح دي اوکه نه؟

جواب: که چیري خدای بخښلي مړي سوي څه مال پرې ایښی وي نو دهغي دوصیت سره سم دفوت سوو لمونځونو فدیه ورکول دترکي تر دریمي برخي پوری ضروري دي، او دفوائتو په اندازي او اټکل سره چي کم فوت سوي لمونځونه تخمینا معلوم سي دهغو فدیه دي ورکړل سي دیوه لمانځه په سر پاو کم دوه سیره غنم، یا دهغي قیمت دي په فدیه کي ورکړل سي، او ددې مصرف فقیران دي دزکوة او واجبو صدقاتو په ډول (۲) دجومات په مرمت او تعمیر اونورو اړتیاوو کي چي دفقیرانو تملیك نه پکښي راځي لګول یي صحیح نه دي. (۳)

دمړیني دناروغي دروژو فدیه نه وي یوازي دلمونځونو وي: **سوال**: (۲۰۲۵) یوه ښځه وفات سوه ددریو کالو لمونځونه او روژي ورڅخه قضا سوي دي چي دهغو په هکله هغې دوفات څخه مخکي خپل خاوند ته دا ویلي وو، چي زما دلمونځونو او روژو غله ورکړه خدای بخښلي څه جواهرات او نور داسي شیان نه دي پرېښي، څه جواهرات چي دهغي سره وه دهغو په اړه یي خاوند وایي چي هغه دهغي دناروغی په درملنه کي ولګیده،

---

(۱) ولو لم يترك مالا يستقرض وارثه نصف صاع مثلا ويدفعه لفقير ثم يدفعه الفقير للوارث ثم وثم حتى يتم (درمختار) لم يترك مالا أي اصلا او كان ما اوصى به لا يفي، زاد في الامداد او لم يوص بشيئ واراد الولي التبرع الخ واشار بالتبرع أن ذلك ليس بواجب على الولي ونص عليه في تبيين المحارم فقال لايجب على الولي فعلى الدوران اوصى به الميت لأنها وصية بالتبرع والواجب على الميت ان يوصي بما يفي بما عليه إن لم يضيق الثلث عنه فإن اوصى بأقل و امر بالدور وترك بقية الثلث للورثة او تبرع به لغيرهم فقد اثم بترك ما وجب عليه الخ (رد المحتار باب قضاء الفوائت مطلب في إسقاط الصلوة عن الميت ج۱ ص۶۸۲ - ۶۸۷، ط.س. ج۲ ص۷۳). ظفير

(۲) ولو مات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج۱ ص۶۸۵، ط.س. ج۲ ص۷۲). ظفير

(۳) لا يصرف إلى بناء نحو مسجد و لا إلى كفن ميت (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۸۵، ط.س. ج۲ ص۳۴۴). ظفير

ځکه نو هغه دهغي دروژو او لمونځونو فديه نه ورکوي ايا دهغي مور او پلار دادا کولو مستحق دي او که دهغي دخاوند پرذمه دي؟

جواب: په دي صورت کي چي دوفات سوي ښځي کمي روژي په ناروغی کي فوت سوي او په همدي ناروغی کي هغه وفات سوي هم ده په مينځ کي روغه سوي هم نه ده نو ددغو روژو قضا دهغي پرغاړه لازمه نه ده ځکه نو دهغي فديه هم ساقطه سوه او دلمونځونو قضا ورباندي هرو مرو لازمه ده او دنه ادا کولو په صورت کي فديه لازمه سوه ليکن کله چي يي څه فديه نه ده پرې ايښي نو دلمونځونو دفديي ادا کول دوارثانو پرذمه لازم نه دي، البته که يي مور او پلار يا نور خپلوان تبرعا ورکړي نو دا غوره خبره ده او دقبليدو هيله [1] يي سته. فقط

دوصيته پرته په وارثانوکي دهيچا پرغاړه هم لازمه نه ده: **سوال**: (٢٠٢٢) کمه ښځه چي مړه سوي ده دهغي خاوند زوی او مور او پلار سته نودهغه دمالـ څخه څوك په فديه ورکولوکي غوره دي ځکه چي خاوند ته دروژي او لمانځه دقضا والي حال معلوم دی؟

جواب: چي څوك يي ورکړي هغه ښه دی دوفات سوي دوصيت څخه پرته دهيچا پرذمه هم فديه ورکول لازم نه دي. [2]. فقط

الباب الحادي عشر في سجود السهو

دسجده سهوي مسئلې

دقراءت په تکرار سره سجده سهوه نه لازميږي: **سوال**: (٢٠٢٧) دجمعي په ورځ امام په لومړي رکعت کي سورت دهر پيل کړی چي نيم سورت يي ولوستی نو مخ ته بند سو، دوهم ځل او دريم ځل يي دسره تکرار کړی، نو هلته پوره سو، په داسي صورت کي دجمعي لمونځ دسجدي سهوي پرته صحيح دی اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي لمونځ وسو، سجده سهوه لازمه نه ده [3] کذا في کتب الفقه.

---

[1] ولو لم يترك مالا يستقرض وارثه نصف صاع مثلا ويدفعه لفقير ثم يدفعه الفقير للوارث ثم وثم حتى يتم (درمختار) قوله لو لم يترك مالا الخ اى اصلا او ما اوصى به لا يفي، زاد في الإمداد اولم يوص بشيئ و اراد ولى التبرع الخ واشار بالتبرع إلى أن ذلك ليس بواجب على الولي، ونص عليه في تبيين المحارم لا يجب على الولى فعل الدور الخ (ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٢، ط. س. ج٢ ص٧٣). ظفير

[2] او لم يوص بشيء واراد الولى التبرع الخ واشار بالتبرع إلى أن ذلك ليس بواجب على الولى ونص عليه في تبيين المحارم فقال لايجب على الولى (ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٢، ط.س. ج٢ ص٧٣). ظفير

[3] يكره أن يفتح من ساعته كما يكره للإمام أن يلجئه إليه بل ينتقل إلى آية اخرى لا يلزم من وصلها ما يفسد الصلوة او إلى سورة اخرى او يركع إذا قرأ قدر الفرض كما جزم به الزيلعي وغيره وفي رواية قدر المستحب كما رجحه الكمال الخ (ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة ج١ ص١٨٢، ط.س. ج١ ص٦٢٢). ظفير

دماپښین په سنتوکي چي اوله قعده ورځخه هيره سي او سجده سهوه وکړي نولمونځ به يي وسي اوکه نه؟ **سوال:** (٢٠٢٨) که چيري دماپښين په څلورو رکعتو سنتوکي پردوو رکعتو ناسته ورځخه هيره سي، نو دسجده سهوي په کولو سره لمونځ ادا کيږي اوکه نه؟ او که يي چيري په دوو رکعتو سنت مؤکدو باندي درود شريف ولوستی نو سجده سهوه لازميږي اوکه نه؟

جواب: دسجده سهوي دکولوسوه لمونځ وسو (١) او ددرود شريف په منځنۍ قعده کي په لوستلو سره سجده سهوه لازميږي. (٢)

په هيره يې يو سورت شروع کړی بيا يې بل سورت ولوستی نوپه دې سره سجده سهو نه لازميږي: **سوال:** (٢٠٢٩) امام دتراويحو په اخري دوو رکعتوکي په لومړي رکعت کي دسورت فاتحي وروسته دقل اعوذ لوستلو څخه وروسته سمدستي تبت يدا ويلی وو، چي يوه مقتدي دښودني په ډول قل أعوذ برب الفلق پوره سورت ولوستی اودويم رکعت يي هم پوره کړی خو سجده سهوه يي ونه کړه نو په دي صورت کي به لمونځ صحيح سي او که به دا لمونځ بيا راګرځوي او بل دا چي سجده سهوه ضروري ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي لمونځ صحيح دی او سجده سهوه واجبه نه ده، کذا في الدر المختار. (٣)

دواجبو په تاخير سره سجده سهوه: **سوال:** (٢٠٣٠) په تاخير دواجبو کي په سجده سهوه کي اختلاف دی شرعا څه حکم دی؟

جواب: په اصل کي سجده سهوه دواجب په ترک سره لازميږي ليکن کله چي دواجبو تاخير هم دواجبو ترک لره مستلزم دی ځکه نو دواجبو په تاخير سره هم سجده سهوه لازميږي. فقط (٤)

---

(١) ولو ترك القعود الأول في النفل سهوا سجد ولم تفسد استحسانا لأنه كما شرع ركعتين شرع اربعا ايضا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠١، ط.س. ج٢ ص٨٨). ظفير

(٢) ولا يزيد في الفرض على التشهد والقعدة الأولى إجماعا ان زاد عامدا كره فتجب الإعادة او ساهيا وجب عليه سجود السهو (درمختار) قوله لا يزيد في الفرض اى وما الحق به كالوتر والسنن الرواتب (رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٧٢، ط.س. ج١ ص٥١٠). ظفير

(٣) وفي القنية قرأ في الأول الكافرون وفي الثانية الم تر وتبت ثم ذكر يتم وقيل يقطع ويبدأ (درمختار) أفاد أن التنكيس او الفصل بالقصيرة إنما يكره إذا كان عن قصد فلو سهوا فلا كما في شرح المنية و إذا إنتفت الكراهة فإعراضه عن التي شرع فيها لا ينبغي (رد المحتارفصل في القراءة ج١ ص٥١٠، ط.س. ج١ ص٥٤٧). ظفير

(٤) و لا يجب السجود إلا بترك واجب او تاخير ركن الخ وفي الحقيقة وجوبه بشيء واحد وهو ترك الواجب كذا في الكافي (عالمگيري مصري باب سجود السهو ج١ ص١١٨). ظفير

په اخري ركعتو كي دسورت په لوستلو سره سجده سهوه نه لازميږي: **سوال**: (٢٠٣١) دفرضو په وروستنيو څلورو ركعتونوكي كه څوك دسورت فاتحي سره سورت يو ځاى كړي نو دتاخير له امله به سجده سهوه نه لازميږي؟

جواب: په اخري دوو ركعتونو كي دسورت په يوځاى كولو سره سجده سهوه نه لازميږي (١) په درمختاركي دي: ولوزاد لا بأس به الخ وفي الشامي فكان الضم خلاف الأولى. (٢) فقط

كه چا په اول ركعت كي يوازي يوه سجده وكړه او ودريدى نوڅه وكړي؟ **سوال**: (٢٠٣٢) په اول ركعت كي كه چيري چا يوه سجده وكړه او ودريدى نوڅه به كوي بيرته راوګرځي بلـه سجده وكړي اوكه پـه دويـم ركعـت كـي دري سـجدي وكړي او سـجده سـهوه بـه هـم كـوي اوكه نه؟

جواب: كم وخت چي ورته ياد سي چي يوه سجده مي كړي ده، همغه وخت دي بلـه سـجده وكړي او په اخره كي دي سجده سهوه وكړي. فقط (٣)

په شبهه باندي لمونځ ماتول: **سوال**: (٢٠٣٣) [١] زيد ته دفرض لمانځـه پـه لـومړي ركعـت كـي شـبهه پيـدا سـوه چي يـوه سجده مي ادا كـړي ده ځكـه نو هغـه پـه ولاړه ولاړه سـلام وګرځوى او دنوي سره يي لمونځ پيل كړى دهغه دا فعل جائز دى او كه نـه؟ يـو ډول ګنـاه خو ونه سوه؟

كه په هر ركعت كي واجب پاته سي نو په اخره كي به سجده سهو لازميږي: **سوال**: (٢٠٣٤) [٢] ايا دا ضروري ده چي په څلور ركعتيز لمانځه كي چي په هر ركعت كي دواجب دپاته كيدلو شبهه راسي نو دټولو ركعتو په پـاى كـي بـه سـجده سـهوه كـوي اويـا چي كلـه يـي شبهه راسي نو سمدستي به لمونځ ماتوي او دوباره به لمونځ دسره كوي؟

جواب: [١] هيڅ ګناه نسته. (٤)

---

(١) وضم اقصر سورة الخ في الأوليين من الفرض وهل يكره في الأخريين المختار لا. (درمختار) أى لايكره تحريما بل تنزيها لأنه خلاف السنة قال في المنية وشرحها بان ضم السورة أى الفاتحة ساهيا يجب عليه سجدة السهو في قول ابي يوسف لتاخير الركوع من محله وفي ظاهر الرواية لايجب الخ لأن القراءة فيهما مشروعة من غير تقدير والإقتصار على الفاتحة مسنون لا واجب اه الخ فلا ينافي كونه خلاف الأولى كما أفاد في الحلية (رد المحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة ج١ ص٤٢٧، ط.س. ج١ ص٤٩٥). ظفير

(٢) ايضا. ظفير

(٣) ولا يجب السهو إلا بترك واجب و تأخيره او تأخير ركن او تقديمه اهـ (عالمگيري مصري باب سجود السهو ج١ ص١١٨، ط. ماجدية ج١ ص١٢٢). ظفير

(٤) وإذا شك في صلاته من لم يكن ذلك أى الشك عادة له الخ كم صلى إستأنف بعمل مناف وبالسلام قاعدا اولى لأنه المحلل وان كثر شكه عمل بغالب ظنه (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٥، =

[٢] دشك او شبهي خو اعتبار نسته لأن اليقين لايزول بالشك ليكن كه چيري په ظن غالب او گمان راجح سره دځلورو ركعتونو په يوه ركعت كي هم دواجب پريښودل معلوم سي نو دلمانځه په پای كي سجده سهوه كول لازم دي. (١) فقط

په وروستني قعده كي دالتحيات په دوباره ويلو سره سجده سهونه لازميږي: **سوال**: (٢٠٣٥) په وروستنی قعده كي په دوه واره التحيات لوستلو سره سجده سهوه لازميږي اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي سجده سهوه نه لازميږي. (٢)

داياتونو په تكرارولو سره سجده سهوه نه لازميږي: **سوال**: (٢٠٣٦) كه چيري چاپه لمانځه كي قرائت مكرر ولوستی مثلا چا سورت النصر شروع كړی او پر افواجا باندي ودريدی بيا يي دوهم ځل د: افواجا فسبح څخه شروع او پای ته ورسوی سجده سهوه لازمه ده اوكه نه؟

جواب: سجده سهوه په دې سره نه لازميږي. (٣)

دواجب قراءت دلوستلو وروسته په قراءت كي غلطي لمونځ فاسدوي اوكه نه؟ سوال: (٢٠٣٧) كه چيري څوك دسورت په پيوست كولو كي تريوه آيت وروسته مثلا پرافواجا باندي غلط سي نو سجده سهوه لازمه ده اوكه نه؟

جواب: سجده سهوه نهورباندي لازميږي ليكن كه غلطي داسي وي چي لمونځ فاسدوي نو دلمانځه اعاده لازمه ده، اوكه چيري غلطي داسي وي چي په هغي سره دلمانځه دفساد حكم نه كيږي نو نه به لمونځ فاسد سي اونه به سجده سهوه لازمه سي. فقط

كه مسبوق دامام سره سلام وگرځوي نو لمونځ يي نه فاسديږي سجده سهوه كافي ده: **سوال**: (٢٠٣٨) مسبوق چي سهوا دامام سره سلام وگرځوي او ددعا لپاره لاسونه پورته كړي نو لمونځ يي فاسديږي اوكه نه؟

جواب: په شامي باب سجود السهو كي دي: قوله والمسبوق يسجد مع إمامه قيد بالسجود لأنه لا يتابعه في السلام بل يسجد معه ويتشهد اذا سلم الإمام قام الى القضاء فان كان عامدا فسدت وإلا لا ولا سجود عليه إن سلم سهوا قبل الإمام او معه وإن سلم

= ط.س. ج٢ ص٩٢). ظفير

(١) يجب الخ بترك واجب مما هو في صفة الصلوة سهوا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٣، ط.س. ج٢ ص٨٠). ظفير

(٢) ولو كرر التشهد في القعدة الأولى فعليه السهو الخ ولو كرره في القعدة الثانية فلا سهو عليه كذا في التبيين (عالمگيري مصري باب سجود السهو الباب الثاني عشرج١ ص١١٩، ط. ماجدية ج١ ص١٢٧). ظفير

(٣) ويجب له تشهد وسلام الخ بترك واجب عما مرّ (درمختار) بترك واجب اى من واجبات الصلوة الأصلية لا كل واجب الخ (ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٣، ط.س. ج٢ ص٧٨). ظفير

بعده لزمه لكونه منفردا حينئذ، بحر. واراد بالمعية المقارنة وهو نادر الوقوع كما في شرح المنية (١) ددي عبارت څخه څرګنده سوه چي معيت حقيقتا نادر الوقوع دى لهذا دمسبوق سلام به ترامام هرو مرو لږ وروسته وي نوکه دا سهوا وي نوسجده سهوه پرمسبوق باندي دلمانځه په پاى كي لازمه ده او لمونځ به يي وسي. فقط

كله چي دا معلومه نه وي چي سجده سهوه واجبه ده اوكه نه نو لمونځ كوونكى څه وكړي؟

سوال: (٢٠٣٩) ځيني وختونه په لمانځه كي په سهوه كيدلو سره دا معلومه نه وي چي سجده سهوه واجبه سوه اوكه نه؟ په داسي صورت كي سجده سهوه كول پكاردي اوكه نه؟

جواب: كله چي دا علم نه وي چي په دي سره سجده سهوه لازميږي اوكه نه نوسجده سهوه كول احوط دي. فقط

په يوه ركعت كي په دوو ركوع كولو سره سجده سهوه؟ **سوال:** (٢٠٤٠) كه چيري چاپه يوه ركعت كي دوې ركوع وكړلي، اوسجده سهوه يي هم ونه كړه نو لمونځ كيږي اوكه نه؟ مثلا په لوى اختركي امام صاحب په دوولسو تكبيرونو سره نيت تړل فرمايلي دي، او په دويم ركعت كي يي ددوو ركوع ګانو تر مينځ پاته دري تكبيرونه ادا كړل او سجده سهوه ونه كړل سوه كله چي امام ته وويل سوه چي لمونځ ونه سو نو اګر كه غلطي يي ومنله خو لمونځ يي راونه ګرځوى ايا دا امام دامامت قابل دى اوكه نه؟

جواب: داخترونو په لمونځونو كي دامام صاحب دمذهب سره سم (٢) په هر ركعت كي دري دري تكبيرونه زائد دي دوولس تكبيرونه نه دي او سجده سهوه دواجب په ترك او ځنډ سره واجبيږي او په دوه ځله ركوع كولو سره هم سجده سهوه لازميږي كه يي سجده سهوه ونه كړله نو لمونځ واجب الإعادة دى ليكن داخترونو په لمونځونو كي دډير ازدحام له امله كه يي سجده سهوه پريښودله نو لمونځ صحيح دى. (٣) فقط

په جمع سره دلمونځ كولو وروسته مقتدي بيا راوګرځوى نوپه دواړو لمونځوكي كم يوصحيح سو؟ **سوال:** (٢٠٤١) مقتدي لمونځ راوګرځوى نو په داسي صورت كي هغه لمونځ چي هغه په جمع سره كړى وو هغه صحيح سو اوكه هغه چي ځانته يي وكړى؟

---

(١) رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٥ – ٢٩٦، ط.س. ط.س. ج٢ ص٨٢. ظفير

(٢) ويصلي الإمام بهم ركعتين مثنيا قبل الزوائد وهى ثلاث تكبيرات في كل ركعة (الدر المختار) هذا مذهب ابن مسعود وكثير من الصحابة ورواية عن ابن عباس وبه اخذ ائمتنا الثلاثة (رد المحتار باب العيدين ج١ ص٧٧٩، ط.س. ج٢ ص١٧٢). ظفير

(٣) والسهو في صلوة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتقدمين عدمه في الأوليين لدفع الفتنة كما في جمعة البحر وأقره المصنف وبه جزم في الدر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٥، ط.س. ج٢ ص٩٢). ظفير

جواب: که چیري دترك واجب او یا داسي بل نقصان له امله لمونځ راوګرځول سو، نو فرض مخکي ادا سوي دي، په راګرځولو سره دهغو تکمیل وسو، یعني کم نقصان چي پاته سوی وو هغه پوره کړل سو، او دنقصان جبر وکړل سو. ([1]) فقط

په فاتحه او منځني قعده کي دالتحیات څخه وروسته په څومره ځنډ سره سجده سهوه لازمیږي؟ **سوال**: (٢٠٤٢) دفاتحي څخه وروسته او په دوهم رکعت کي دتشهد څخه وروسته اوپه دریم رکعت کي ددریدلو په مهال په څومره ځنډ او دریدو سره سجده سهوه لازمیږي؟

جواب: که چیري دیوه رکن په قدر توقف سهوا وکړل سي نو سجده سهوه به لازمیږي، درمختار: وتأخیر قیام إلی الثالثة بزیادة علی التشهد بقدر رکن. الخ فقط ([2])

ددریمي سجدي له امله سجده سهوه: **سوال**: (٢٠٤٣) [١] پرون دجمعي په لمانځه کي یو نوی صورت پیښ سو، یعني په دویم رکعت کي امام ددویمي سجدي څخه وروسته ددریمي سجدي دکولو قصد وکړی نو مقتدیانو سبحان الله وویل خو امام سجدي ته ورسیدی او مقتدیانو ورپسي اقتداء وکړه دډیرو مقتدیانو خبره ده چي امام دتکبیره پرته پورته سو او دتشهد څخه وروسته یي دسجده سهوي دپاره سلام وګرځوی ترهغه وخته پوري ددوه دری مقتدیانو پرته نور مقتدیان په سجده کي وه دالسلام علیکم په اوریدلو سره فوراً دسجدي څخه راپورته سول، او دامام سره په سلام کي شریك سول او سجده سهوه یي وکړه او لمونځ یي ختم کړی، ددوو دریو مقتدیانو پرته نورو ټولو دتشهد او قاعدي پرته دامام سره دسجده سهوي په سلام کي متابعت وکړی، ددي وروسته جګړه سوه دډیرو رایه داوه چي دټولو لمونځ وسو ځکه نو لمونځ را ونه ګرځول سو. فقط

که چیري په دریمه سجده کي اقتدا ونه کړي: **سوال**: (٢٠٤٤) [٢] کم مقتدي چي په دریمه سجده کي اقتدا ونه کړي دهغه څه حکم دی؟

مقتدي ته دسهوي په سلام کي اقتداء کول ښايي: **سوال**: (٢٠٤٥) [٣] مقتدیان دامام سره دسهوي په سلام کي داتباع کولو پرته نور څه کولای سي؟

جواب: په دي صورت کي لمونځ دټولو وسو ځکه چي کم مقتدیان دسجده سهوي په سلام کي دامام سره شریك سول او دامام سره سجدي ته ولاړل او دسهوي دسجدي

([1]) ولها واجبات لاتفسد بترکها ویعاد وجوبا الخ والمختار أنه جابر للأول لأن الفرض لایتکرر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب في واجبات الصلوة ج١ ص٤٢٤ – ٤٢٢، ط.س. ج١ ص٤٥٦). ظفیر

([2]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٤، ط.س. ج٢ ص٨١. ظفیر

وروسته يي دامام سره قعده وكړه او تشهد او نور يي دقاعدي مطابق ولوستل نوهغوى ته دا څنګه ويل کيږي چي نه يي قعده وكړه اونه يي تشهد ولوستى! (١)

[٢] دهغه لمونځ صحيح دى. (٢)

[٣] دمدرك مقتدي همدغه حكم دى او مسبوق دي دسهوي په سلام کي دامام سره نه شريکيږي په سجده کي دي شريك سي. (٣)

چي امام دتسبيح سره سره پنځم ركعت شروع كړي نو مقتدي دي اتباع نه كوي: سوال: (٢٠۴٢) كله چي امام دڅلورو ركعتو په ځاى پنځم ركعت پيل كړي، او دمقتديانو په بيا بيا پوهولو باندي هم ناسته ونه كړي، نو دامام اقتداء وكړل سي اوكه نه؟

جواب: په پنځم ركعت کي دي اقتداء نه كوي په درمختار کي دي: چي كه امام داخري قاعدي وروسته پنځم ركعت ته پورته سو نو مقتديان دي ناست اوسي او دهغه دراګرځيدو انتظار دي كوي، كه چيري هغه راوګرځيدى نو مقتديان دي دهغه سره سي، اوكه امام دپنځم ركعت سجده وكړه نو مقتديان دي سلام وګرځوي، او لمونځ دي ختم كړي (۴) اوكه چيري امام اخري قعده ونه كړه او دناستي پرته پنځم ركعت ته پورته سو او دپنځم ركعت سجده يي هم وكره نو بيا مسئله معروفه ده چي دهيچا هم فرض لمونځ ادا نه سو. (۵) فقط

په ماښام کي يي سورت فاتحه كرار ولوسته بيا په وريادولو سره يي سورت په زوره ولوستى نو سجده سهوه به كوي اوكه نه؟ سوال: (٢٠۴٧) امام دماښام دلمانځه دنيت تړلو څخه وروسته سبحانك اللهم او سورت فاتحه كرار ولوستل يوه مقتدي دوريادولو په غرض الحمد په لوړ اواز سره وويله نو امام دسورت فاتحي څخه وروسته سورت په لوړ اواز

---

(١) نعم تكون المتابعة فرضا بمعنى أن يأتي بالفرض مع إمامه او بعده كما لو ركع إمامه فركع معه مقارنا او معاقبا او شاركه فيه الخ (رد المحتار مطلب مهم في تحقيق المتابعة ج١ ص۴٣٩، ط.س. ج١ ص۴٧١). ظفير

(٢) وانه ليس له أن يتابعه في البدعة والمنسوخ وما لا تعلق له بالصلوة فلا يتابعه لو زاد سجدة الخ (ردالمحتار باب صفة الملوة مطلب مهم في تحقيق متابعة الإمام ج١ ص۴٣٩، ط.س. ج١ ص۴٧١). ظفير

(٣) ولو سلم ساهيا إن بعد إمامه لزمه السهو وإلا لا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الإمامة مطلب في المسبوق ج١ ص٥٢٠، ط.س. ج٢ ص٥٩٩). ظفير

(۴) وإن قعد في الرابعة مثلا قدر التشهد ثم قام عاد وسلم قام صح ثم الأصح أن القوم ينتظرونه فان عاد تبعوه وان سجد للخامسة سلموا لأن يتم فرضهم إذ لم يبق عليهم إلا السلام (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٠، ط.س. ج٢ ص٧٨). ظفير

(۵) وسها عن القعود الأخير عاد الخ ما لم يقيدها بسجدة الخ وان قيدها بسجدة عامدا او ناسيا او ساهيا او مخطئا تحول فرضه نفلا برفعه الجبهة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٨، ط. س. ج٢ ص٨٣). ظفير

ولوستی او سجده سهوه يي وکړه دسجده سهوي سره لمونځ وسو اوکه نه؟ اوپه دي صورت کي سجده سهوه ضروري ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي لمونځ صحيح سو او سجده سهوه په دي صورت کي واجبه وه دسجده سهوي په کولو سره لمونځ بي کراهته صحيح سو. ([1]) فقط

دمتشابه له امله دايت په تکرار سره سجده سهوه لازمه نه ده: **سوال**: (٢٠٤٨) امام دجمعي په لمانځه کي سورت جمعه ولوستله، او په ملك القدوس باندي په متشابه کي ولګيدی نو دسورت تکرارول يي پيل کړه په دي اوږدو کي يوه مقتدي فتحه ورکړه، ليکن امام دفتحي خيال ونه کړی او په خپله يي دصحيح لوستلو وروسته لمونځ ختم کړی سجده سهوه يي ونه کړه لمونځ وسو او که نه؟

جواب: په دي صورت کي سجده سهوه لازمه نه وه، لمونځ صحيح سو. ([2]) فقط

په اخري رکعت کی دتشهد څخه وروسته ولاړ سو بيا کښينستي نو سجده سهوه دي وکړي:

سوال: (٢٠٤٩) که چيري په اخري رکعت کي دتشهد څخه وروسته ودريدی او بيا کښينستی نو بيا به تشهد وايي اوکه سلام به ګرځوي او دسجده سهوي تشهد به وايي يو دپوره قيام څخه وروسته سمدستي کښينستي، بل دڅه لوستلو وروسته دريم دسورت دختمولو وروسته په دري واړو حالاتو کي حکم يو دی که بيل بيل؟

جواب: په دري واړو حالاتو کي دي کښيني او بيا دي تشهد ووايي او دسجده سهوي دکولو وروسته دي بيا تشهد او نور ووايي او سلام دي وګرځوي. ([3]) فقط

دکم نابينا څخه چي يو رکعت دامام دغلطي له امله پاته سي: **سوال**: (٢٠٥٠) دماپښين په لمانځه کي امام سهوا منځنی قعده پريښودله ودريدی په جمعه کي يو نابينا هم وو هغه

([1]) والجهر فيما يخافت فيه للإمام وعكسه لكل مصل في الأصح تقديره ما تجوز به الصلوة في الفصلين وقيل قائله قاضيخان يجب السهو بهما اى بالجهر والمخافه مطلقا أى قل او كثر (درمختار) وقال في شرح المنية والصحيح ظاهر الرواية وهو التقدير بما تجوز به الصلوة من غير تفرقة لأن القليل من الجهر في موضع المخافة عفو ايضا (ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٤، ط.س. ج٢ ص٨١). ظفير

([2]) بخلاف فتحه على إمامه فإنه لا يفسد مطلقا لفاتح وآخذ بكل حال (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة ج١ ص٥٨٢، ط.س. ج١ ص٦٢٢) سجده سهوه دواجب په ترك او دهغه په شاته کولو او مختنه کولو باندي واجبيږي، چي دلته يو هم مينځ ته نه راغی. ظفير

([3]) وان قعد في الرابعة مثلا قدر الشهد ثم قام عاد وسلم ولو سلم قائما صح (درمختار) قوله قام اى ولم يسجد قوله عاد وسلم اى عاد للجلوس لما مر ان مادون الركعة محل للرفض وفيه إشارة إلى أنه لايعيد التشهد وبه صرح في البحر قال في الإمداد والعود للتسليم جالسا سنة الخ (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٠، ط.س. ج٢ ص٨٧) ددي عبارت څخه معلومه سوه چي په صورت مسئوله کي به تشهد نه راګرځوی. والله اعلم. ظفير

دخپل ياد موافق تشهد لوستل شروع كړل، او دمعذوروالي له امله يي دامام متابعت ونه كړې، غرض دا چي نابينا فرض او واجب ادا كول او په اخره قعده كي دامام سره شريك سو او دامام سره يي سجده سهوه هم وكړه بيا چي امام سلام وګرځوى نو دغه نابينا په دي خيال چي زه وروسته پاته سوى يم ودريدى او يو ركعت يي ادا كړې چي هغه دده پنځم وو نو ايا دده لمونځ وسو او كه نه؟

جواب: كه چيري دغه نابينا په پاى كي سجده سهوه وكړه نو لمونځ يي وسو. (١) فقط

كه يي داخترونو په زياتو تكبيرونو كي كمي وكړه نو څه حكم لري؟ سوال: (٢٠٥١) زيد داختر لمونځ وكړى نو په لومړي ركعت كي يي دځلورو تكبيرونو په ځاى دري تكبيرونه ادا كړل، ايا دا لمونځ وسو اوكه نه؟

جواب: داختر تكبيرونه واجب دي دتكبير افتتاح او دركوع له تكبير څخه پرته دري واجب دي كه يي په دي كي يو تكبير هم پريښوى نو واجب به ترك سي، او دواجب په پريښودلو سره سجده سهوه لازميږي، خوكله چي داخترونو په لمانځه كي سجده سهوه نسته نو لمونځ وسو. (٢) فقط والله تعالى اعلم.

دفرضو اخرني قعده يي په هيره پريښوده او پنځم ركعت يي ورسره يوځاى كړي نوهغه به نفل سي: سوال: (٢٠٥٢) كم سړى چي داخري قعدي څخه سهوه سو اوپنځم ركعت يي په سجده سره مقيد كړى وايي چي: تحول فرضه نفلا، حال داچي دنفلو په هكله وايي: لأن كل شفع من النفل صلوة عليحدة. بدليل نقل مع حواله. سره دحوالي صفحه دكتاب او مطبع تحرير وفرماياست.

جواب: فرضه نفلا (٣) په خپله مصرح دي، ددي لپاره دبلي كمي حوالي اړتيا نسته، اوكل شفع من النفل صلوة عليحدة قاعده هم صحيح ده ليكن دلته په سجده سهوي سره دهغه پټې وتړل سوه. فقط

دسجده سهوي دقصدا او نسيانا پري ښوولو حكم: سوال: (٢٠٥٣) دسجـــده سهوي په هيره

---

(١) يعني كه چيري په دغه پنځم ركعت كي يې سجده سهوه وكړه نو بيا خويې لمونځ وسو كه نه وي اعادغ يې واجبه ده وكذا للاحق لكنه يسجد في اخر صلوته ولو سجد مع إمامه أعاده (درمختار) ولاحقا بركعة فسجد إمامه للسهو فإنه يقضي ركعة بلا قراءة لأنه لاحق ويتشهد ويسجد للسهو الخ (ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٢، ط.س. ج٢ ص٨٣). ظفير

(٢) والسهو في صلاة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتاخرين عدمه في الأولين لدفع الفتنة كما في جمعة البحر وأقره المصنف وبه جزم في الدر المختار (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٨، ط.س. ج٢ ص٨٥). ظفير

(٣) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٨، ط.س. ج٢ ص٨٥. ظفير

پرېښودلو او په قصد سره پرېښودلوکي توپير سته اوکه نه؟ که ورڅخه هيره سوه نو دلمانځه اعاده به کوي اوکه نه؟

جواب: ددغه لمانځه قضا واجبه ده، اوسجده سهوه عمدا اوسهوا پرېښودل برابر دي. (١)

که په څلور رکعتي لمانځه کي سهوا په دريم رکعت باندي هم کښېنستي نوڅه حکم لري؟

سوال: (۲۰۵۴) که چيري چا څلور رکعته لمونځ پيل کړی اوپه دريم رکعت کي سهوا کښېنستی نو لمونځ يي صحيح سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي سجده سهوه واجبه ده او لمونځ يي صحيح سو.

که په هيره سره په رکوع کي دسجدي تسبيح ووايي نو څه حکم دی؟ **سوال:** (۲۰۵۵) که په رکوع کي سهوا دسجدي تسبيح ووايي يا برعکس، نو په لمانځه کي خو به څه خرابي نه راځي؟

جواب: هيڅ خرابي نه راځي. (٢)

په سجده کي درکوع تسبيح: **سوال:** (۲۰۵۶) درکوع تسبيح يي په سجده کي ووايه چي ورته ياد سي نو دسجدي تسبيح ووايي اوکه درکوع تسبيح کافي وي؟

جواب: دسجدي تسبيح ويل په کار دي، ترڅو دسنتو موافق سي. (٣)

تعديل پرېښوول اوسجده سهوه: **سوال:** (۲۰۵۷) چي قومه او جلسه دلمونځ کوونکي دتيزی له امله په واجبي اندازي سره سم ادا نسي نو سجده سهوه به واجبه وي اوکه نه؟

جواب: سجده سهوه په هغه فعل سره واجبېږي چي سهوا وسي، اوکم خلګ چي عمدا او عادتا قومه او جلسه نه پوره کوي په دي کي سجده سهوه نسته بلکه دداسي لمونځونو اعاده واجبه وي. (٤) فقط

دسجده سهوي لپاره دي يوازي يوه لورته سلام ګرځوي: **سوال:** (۲۰۵۸) کم سړی چي يواځي

(١) ولها واجبات لا تفسد بتركها وتعاد وجوبا في العمد والسهو إن لم يسجد له وإن لم يعدها يكون فاسقا اثما (درمختار) قوله إن لم يسجد له أى للسهو. (الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب في واجبات الصلوة ج١ ص٤٢٥، ط.س. ج٢ ص٤٥٦). ظفير

(٢) ويلزمه السهو إذا زاد في صلاته فعلا من جنسها ليس منها وهذا يدل على أن سجدة السهو واجبة وهو الصحيح لأنها تجب لجبر نقصان تمكن في العبادة (هدايه باب سجود السهو ج١ ص١٤٠). ظفير

(٣) ويسبح فيه (أى في الركوع) وأقله ثلاثا فلو تركه او نقصه كره تنزيها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٢١، ط.س. ج٢ ص٤٩٤) او دلته خويي پرې ايښي هم نه ده بلکه الفاظ بدل سوه، په دي کي څه ستونزه نسته. ظفير

(٤) ولها (اى للصلاة) واجبات لا تفسد بتركها وتعاد وجوبا في العمد والسهو إن لم يسجد له وان لم يعدها يكون فاسقا اثما (درمختار) قوله إن لم يسجد له اى للسهو هذا قيد لقوله والسهو إذ لا سجود في السهو (رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٢٥، ط.س. ج٢ ص٤٥٦). ظفير

لمونځ کوي هغه به دیوه رکن دهیریدلو په صورت کي دسجده سهوي دکولو په مهال یوائي ښي لوري ته سلام ګرځوي اوکه دواړو طرفو ته؟

جواب: یوائي یوه لوري ته دي سلام وګرځوي که یي دواړو لورو ته وګرځوی هم څه ستونزه نسته، بیا دي هم سجده سهوه وکړي. (۱)

مسبوق دواړو طرفو ته سلام وګرځوی چي ورياد سو نو ودريدی څه حکم لري؟ سوال:

(۲۰۵۹) یو سړی په دويم رکعت کي شامل سو، او دامام سره یي دري واړه رکعته وکړل او دواړو لورو ته یي سلام وګرځوی په مقتدیانو کي یوه ورته وویل چي ستا رکعت پاته دی، په دي وینا هغه ته یاد سو هغه ودریدی او پاته یو رکعت یي وکړی سجده سهوه یي وکړه او سلام یي وګرځوی په دي صورت کي لمونځ وسو اوکه نه؟ مولانا عبدالحی صاحب په خپله فتاوی کي لیکلي دي چي په دي صورت کي لمونځ نه کیږي ځکه چي وریادوونکی دلمانځه څخه بهر دی په دي هکله حکم څنګه دی؟

جواب: دفقهي په کتابونو کي یي لیکلي دي چي که چیري په داسي صورت کي دهغه په وینا سره سمدستي پاڅیدی نو لمونځ یي فاسد سو، اوکه لږ څه ودریدی او په خپله یي ورياد کړل او پاڅیدی نو لمونځ یي صحيح دی، که یي سجده سهوه وکړه نو لمونځ به یي له کراهته پرته وسي. دمولانا عبدالحی رحمه الله فتوی به غالبا دلومړي صورت په اړوند وي. (۲) فقط

دفاتحي څخه وروسته ترڅه وخته پوري پټه خوله وو نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۰۶۰) که چیري امام یا منفرد دالحمد لوستلو وروسته دیوه اوږده آیت یا دریو لنډو ایاتونو په اندازه قصدا پټه خوله ولاړ وي بیا وروسته سورت وایي نو په هغه باندي سجده سهوه لازمیږي او که نه؟

جواب: سجده سهوه پرهغه باندي لازمه ده کما قال في الدرالمختار: وتفكره عمدا حتى شغله عن ركن (۳) وتحقيقه في الشامي. فقط

امام دماسختن په دريم رکعت کي کښېنستی خو سمدستي ودریدی نوڅه حکم دی؟ سوال:

(۱) یجب له بعد سلام واحد عن یمینه فقط لأنه المعهود وبه یحمل التحلیل وهو الأصح (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۷۹۱، ط.س. ج۲ ص۷۸). ظفير

(۲) وفي القنية قيل لمصل منفرد تقدم فتقدم بأمره الخ فسدت صلوته وينبغي ان يمكث ساعة ثم يتقدم براى نفسه (ردالمحتار باب الإمامة ج۱ ص۵۳۳، ط.س. ج۱ ص۵۷۱) حتى لو إمتثل أمر غيره فقيل له تقدم فتقدم الخ فسدت بل يمكث ساعة ثم يقدم برايه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيها ج۱ ص۵۸۱، ط.س. ج۱ ص۶۲۲). ظفير

(۳) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۶۹۳، ط.س. ج۲ ص۸۰. ظفير

(۲۰۲۱) امام دماسخوتن په لمانځه کي سهوا په دریم رکعت کي کښېنستی، دمقتدي په ښودنه باندي سمدستي ودریدو، وخت ونه لګیدی لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي چي امام ډیر نه کښېنستی او سمدستي ودریدی سجده سهوه نه لازمیږي او لمونځ صحیح سو، کذا في الشامي. ([1]) فقط

دماپښین په مخکنیو سنتوکي دمخکني قعدي په هیریدلو سره سجده سهوه: **سوال**: (۲۰۲۲) یوه سړی دماپښین څخه مخکي دڅلورو رکعتو سنتو نیت وکړی او اوله قعده یې هیره سوه سیده ودریدی وروسته یې قعده وکړه او په اخرکي یې سجده سهوه ونه کړه دا لمونځ صحیح سو اوکه نه؟ پرده بیرته راګرځول واجب دي اوکه نه؟

جواب: دسجده سهوي دنه کولو له امله بیا راګرځول وربانديواجب دي. ([2])

که زنګون یي درولی نه وي نو باید کښیني: **سوال**: (۲۰۲۳) که چیري سیده ولاړنه وي او نه یي زنګونان دزمکي څخه جلا سوي وي نو په دي صورت کي څه کول ورته پکار دي ایا قعده وکړي اوکه ودریږي؟

جواب: قعده دي وکړي او سجده سهوه واجبه نه ده. ([3]) فقط

زنګونان دمځکي څخه پورته سوه خو سیده ونه دریدی نوڅه وکړي؟ **سوال**: (۲۰۲۴) که چیري سیده ونه دریدی او زنګونان یي دزمکي څخه جدا سوي وه، دولاړي او ناستي په مینځني حالت کي وي نو ده ته راګرځیدل په کار دي اوکه دریدل؟ او سجده سهوه وربانديواجبه ده اوکه نه؟ او پرده به اعاده وي او که نه؟

جواب: په دي حالت کي هم راګرځیدل په کار دي او قعده کول په کار دي او سجده سهوه وربانديلازمه نه ده. کما في الدر المختار: عاد إليه وتشهد ولا سهو عليه في الأصح ما لم يستقم قائما في ظاهر المذهب وهو الأصح ([1]) فتح، او دویم قول ددي مقابل دادی: چي که اقرب إلى القعود وي (یعني ناستي ته ډیر نژدي وي) نو کښیديني، اوکه اقرب

([1]) وكذا القعدة في آخر الركعة الأولى والثالثة يجب تركها يلزم من فعلها ايضا تأخير القيام الى الثالثة او الرابعة عن محله وهذا إذا كانت القعدة طويلة أما الجلسة الخفيفة التى إستحبها الشافعي فتركها غير واجب عندنا (ردالمحتار ج١ ص٤٣٨، ط.س. ج١ ص٤٧١). ظفير

([2]) ولها واجبات لا تفسد بتركها وتعاد وجوبا في العمد والسهو الخ وهى قراءة فاتحة الكتاب الخ والقعود الأول ولو في نفل (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة، ط.س. ج١ ص٤٥٢). ظفير

([3]) سها عن القعود الأول من الفرض ولو عمليا وأما النفل فيعود مالم يقيدها بالسجدة ثم تذكره عاد إليه وتشهد ولاسهو عليه في الأصح ما لم يستقم قائما في ظاهر المذهب هو الأصح (الدر المختار على هامش رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٨، ط.س. ج٢ ص٨٣). ظفير

إلى القيام وي (يعني ولاړي ته نژدي وي) نونه دي كښيني او سجده سهوه دي وكړي. فقط

كه په صلوة تسبيح كي دتسبيح پرځاى الحمد لله ووايي نو څه حكم لري؟ سوال: (٢٠٢٥) [١] په صلوة التسبيح كي دالحمد څخه مخكي سبحان الله ولوستل سوه او دتسبيح پرځاى كه چيري الحمد ولوستل سوه نو سجده سهوه وربانديراځي اوكه نه؟

په صلوة التسبيح كي دقراءت څخه وروسته ركوع ته ولاړې: سوال: (٢٠٢٦) [٢] په صلوة التسبيح كي دقراءت څخه وروسته په هيره سره ركوع ته ولاړې په ركوع كي ورته ياد سوه او په ركوع كي يي دا تسبيح ولوستى نو سجده سهوه وربانديواجبه ده اوكه نه؟

جواب: [١-٢] لمونځ يي وسو او سجده سهوه وربانديواجبه نه سوه. فقط

دفاتحي او قراءت په مينځ كي په څومره ځنډ كولو سره سجده سهوه لازميږي؟ سوال: (٢٠٢٧) په بهشتي زيوركي ليكلي دي چي كه چيري ددري ځله سبحان الله لوستلو په اندازه تاخير دفاتحي او سورت تر مينځ وسي نو سجده سهوه به واجبيږي، اونور فقهاء ديوي تسبيح په اندازه وخت فرمايي كم يو قول معتبر دى؟

جواب: كمه خبره چي په بهشتي زيوركي ده همدغه خبره مجققينو غوره ګرځولي ده قال في شرح المنية والصحيح أن قدر زيادة الحرف ونحوه غير معتبر في جنس ما يجب به سجود السهو وإنما المعتبر قدر ما يؤدى فيه ركن كما في الجهر من يخافت وعكسه وكما في الفكر حال الشك ونحوه الخ ص٣٢١. فقط

دماښام تر وروستنى قعدي وروسته امام پورته سو اوبيا كښينستى نوڅه وكړي؟ سوال: (٢٠٢٨) دماښام په مهال امام دري واړه ركعتونه پوره كړل دوروستنى قعدي څخه سهوا پورته سو او مقتديان ناست پاته سول اوكله چي يو څو مقتديانو الله اكبر ووايه نو بيا امام كښينستى او يوه لوري ته يي سلام وګرځوى او سجده سهوه يي وكړه بيا داختلاف جوړيدو په وجهه سره دوباره لمونځ ادا كړل سو، نو ايا دسجده سهوي سره لمونځ ادا سو اوكه دوباره كول يي واجب وو؟

جواب: دغه لمونځ دسجده سهوي په كولو سره صحيح او كامل سوى وو، دراګرځولو اړتيا نه وه. (٢) فقط

دماسخوتن په اخري ركعتونو كي په جهر كولو سره سجده سهوه: سوال: (٢٠٢٩) كه چيري

(١) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٧، ط.س. ج٢ ص٨٣. ظفير

(٢) ولو سها عن القعود الأخير كله اوبعضه عاد الخ ما لم يقيدها بسجدة لأن ما دون الركعة محل الرفض وسجد للسهو لتأخير القعود (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتارباب سجود السهو ج١ ص٢٩٨، ط.س. ج٢ ص٨٥) ظ

يو امام دماسخوتن په اځري ركعتونوكي جهر وكړي نو سجده سهوه وربانْدي واجبه ده اوكه نه؟ الدر المختار: اَلسِّرُّ فِيْمَا يَسُرُّ بِهِ وَالْجِهْرُ فِيْمَا يُجْهَرُ بِهِ وَاجِبٌ، قاعده خو سجده سهوه غواړي خو كله چي په خپله قراءت په دي كي واجب نه دى ځكه نو واجبيدل نه ښايي ځكه كه يي واجب وبولو نو زياتوالى دصفت پرذات باندي لازميږي.

دماپښين په اخري ركعتونوكي په جهر سره سجده سهوه: سوال: (٢٠٧٠) [٢] او دماپښين په اخري ركعتونو كي په جهر كولو سره سجده سهوه لازميږي اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي به سجده سهوه لازمه سي ځكه كه چيري دماسخوتن په اخري ركعتونو كي قراءت وايي نو پټوالى يي لازم دى لكه څنګه چي په شامي كي دي: ويسر في غيرها، ددې په تفسير كي ليكلي دي: قوله ويسرُّ في غيرها وهو ثالثه من المغرب والأخريان من العشاء ([1]) الخ نو دماسخوتن په اخري دوو ركعتو كي اګركه قراءت واجب نه دى ليكن كه چيري قراءت كوي نو اخفاء يې لازمه ده. فقط

[٢] او دماپښين په وروستنيو دوو ركعتونوكي په جهر كولو سره هم سجده سهوه لازميږي. ([2])

داختر په دوهم ركعت كه امام زيات تكبيرونه پرېښودل او ركوع ته ولاړى بيا چي دركوع څخه پورته سو نو تكبيرونه يې وويل، نوڅه حكم دى؟ سوال: (٢٠٧١) دلوى اختر دلمانځه په دويم ركعت كي امام سهوا تكبيرونه ونه ويل او ركوع يي وكړه څه خلګو به هرومرو دركوع تكبير ادا كړى وي، او امام صاحب دركوع تسبيح ادا نه كړي، والله اعلم بالصواب، جمع زياته وه يعني دجومات په چت باندي هم مقتديان موجود وه بيا امام قيام وكړى او تكبيرونه يي په زوره ولوستل، او دوباره يي ركوع او قيام وكړل، او دسجدي وروسته يي دسجده سهوي پرته سلام وګرځوى په ياد سوي صورت كي لمونځ دڅه نقص پرته ادا سو اوكه نه؟

جواب: كه چيري امام دزياتو تكبيرونو دويلو څخه پرته ددويم ركعت ركوع ته ولاړى نو هغه ته نه دي پكار چي بيا دي دركوع څخه دقيام لوري ته ستون سي او تكبيرونه دي ووايي بلكه په درمختاركي يي دېته مفسد دصلوة ويلي دي اګركه شامي ويلي دي چي صحيح داده چي لمونځ فاسد نه سو كذا نقله عن إبن الهمام في العود إلى القعود الأول بعد القيام قال في الدرالمختار ولا يعود إلى القيام ليكبر في ظاهر الرواية فلو عاد

([1]) ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص٤٩٧، ط.س. ج١ ص٥٣٢. ظفير

([2]) ولو جهر الإمام فيما يخافت او خافت فيما يجهر تلزمه سجدتا السهو لأن الجهر في موضعه والمخافة في موضعها من الواجبات الخ (هدايه باب سجود السهو ج١ ص١٤١). ظفير

ينبغي ([1]) الفساد وفي الشامي وقد علمت أن العود رواية النوادر على أنه يقابل عليه ما قاله إبن الهمام في ترجيح القول لعدم الفسادفيما لو عاد إلى القعود الأول بعد ما إستتم قائما الخ ([2]) او داختر او جمعي په لمانځه كي دډيري ګڼي ګوني له امله متأخرينو دا فتوى وركړي ده چي كه چيري سهوه وسي نو سجده سهوه دي نه كوي. فقط

كه چيري مسبوق په خپلو پاته ركعتونو كي يو واجب پرېښووي نوپه هغه باندي سجده سهوه سته اوكه نه؟ سوال: (٢٠٧٢) كه چيري مسبوق دامام سره دماپښين په څلورم ركعت كي يا په اخري قعده كي يوځای سو او دامام دسلام ګرځولو وروسته ولاړ سو او دخپل لمانځه دادا كولو په مهال كي ورڅخه څه واجب پاته سو نو دغه مسبوق به سجده سهوه كوي او كه نه؟

جواب: كول يي ښايي. ([3]) فقط

په اخري قعده كي په دوباره درود لوستلو سره سجده سهوه نسته: سوال: (٢٠٧٣) كه يو سړی پوره درود ابراهيمي يا دهغه نيمه برخه د: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ څخه تر إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ پوري په اخري قعده كي مكرر ووايي نو پرده به سجده سهوه واجبه سي اوكه نه؟

جواب: نه واجبيږي. ([4])

ددرود يوه برخه ورڅخه پاته سوه او ددعا څخه وروسته يي ولوستله نوسجده سهوه واجبيږي اوكه نه؟ سوال: (٢٠٧٤) كه چيري د: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ څخه تر حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ پوري په اخري قعده كي سهوا ونه لوستل سي او دمأثوري دعا دلوستلو په مهال ورته ياد سي نوهغه به دپاتي دعا په پرېښودلو سره ددرود شريف لوري ته انتقال كوي او كه نه؟ او پرده باندي سجده سهو واجبه ده اوكه نه؟

جواب: انتقال كول مناسب دي او سجده سهوهورباندي لازمه نه ده. ([5])

([1]) أي وإن إستقام قائما لا يعود لإشتغاله بفرض القيام وسجد للسهو لترك الواجب فلو عاد إلى القعود بعد ذلك تفسد صلاته لرفض الفرض لما ليس بفرض وصححه الزيلعي وقيل لا تفسد لكنه يكون سيئا ويسجد لتأخير الواجب وهو الأشبه كما حققه الكمال وهو الحق (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٧، ط.س. ج٢ ص٨٤). ظفير

([2]) رد المحتار باب العيدين ج١ ص٧٨٢، ط.س. ج٢ ص٩٢. ظفير

([3]) ويبدأ بقضاء ما فاته عكس المسبوق (درمختار) قوله عكس المسبوق أى في الفروع الأربعة المذكورة فانه إذا قضى ما فاته يقرأ ويسجد للسهو إذا سها فيه (رد المحتار باب الإمامة مطلب في أحكام المدرك والمسبوق ج١ ص٥٥٧، ط.س. ج١ ص٥٩٥). ظفير

([4]) يجب الخ بترك الواجب الخ (درمختار) واحترز بالواجب عن السنة كالثناء والتعوذ ونحوها (ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٣، ط. س. ج٢ ص٨٠). ظفير

([5]) وسننها رفع اليدين للتحريمة الخ والصلوة على النبي ﷺ في القعدة الأخيرة (الدر المختار على هامش رد =

دفرضو په اخري ركعتونوكي دسورة په يوځاى كولو سره سجده سهوه نه لازميږي: **سوال**: (٢٠٧٥) دفرض لمانځه په خالي ركعتونوكي كه چيري يو سورت دفاتحي څخه وروسته قصدا يا سهوا ولوستل سي نوسجده سهو لازميږي اوكه نه؟

جواب: سجده سهوه نه لازميږي. (١) فقط

دڅلور ركعتيز لمانځه په اخري ركعت كي قرائت: **سوال**: (٢٠٧٦) په څلور ركعتيز لمانځه كي په اخري دوو ركعتوكي په قراءت سره قيام ادا كيږي دا څه مصلحت دى چي نيمه الحمد يي ولوستله اوپه دويم ځل يي پوره كړه نو دده پرذمه سجده سهوه واجبه سوه او ځوك چي دواړه ځله ووايي نو نه لازميږي؟

جواب: په اخري دوو ركعتوكي دټول سورت اوفاتحى دقراءت په ترك باندي دهغه قول موافق سجده سهو لازميږي ځوك چي په اخري دوو ركعتو كي دسورت فاتحي په وجوب قائل دي، او دظاهر الرواية سره سم چي كله په اخري دوو ركعتونوكي دفاتحي لوستل واجب نه دي (٢) نو دټولي فاتحي يا دهغي ديوي برخي په پرېښوولو سره به دهغوى په وړاندي سجده سهوه لازمه نه سي. فقط

په قراءت كي دمتشابه كيدلو له امله په دوباره لوستلو سره سجده سهو نه لازميږي: **سوال**: (٢٠٧٧) دامام څخه چي په لمانځه كي دلوستلو په مهال هيره وسي يا په متشابه كيدلو سره دبل ځاى دوه دري اياتونه ولولي او دبيا رايادېدلو او يا هيرېدلو له امله دسره قراءت ووايي نو لمونځ يي كيږي اوكه نه؟ او سجده سهوه وربانديي لازميږي او كه نه؟

جواب: په دي صورت كي لمونځ صحيح دى او سجده سهوه ورباندي واجبه نه ده اوكه يي په غلطى سره سجده سهوه وكړه نو هم لمونځ صحيح سو. (٣) فقط

= المحتار باب صفة الصلوة مطلب سنن الصلوة ج١ ص٤٤٥، ط. س. ج١ ص٤٧٤). ظفير

(١) واكتفى المفترض فيما بعد الأوليين بالفاتحة فإنها سنة على الظاهر ولو زاد لابأس (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٧٨، ط.س. ج٢ ص٥١١). ظفير

(٢) واكتفى المفترض فيما بعد الأوليين بالفاتحة فإنها سنة على الظاهر فلو زاد لا بأس به وهو مخير بين قراءة الفاتحة الخ وصح العيني وجوبها (درمختار) اى ظاهر الرواية ولو زاد لا بأس به الخ اى لو ضم إلي سورة لا باس به لأن القراءة في الأخريين مشروعة من غير تقدير والإقتصار على الفاتحة مسنون لا واجب فكان الضم خلاف الأولى وذلك لا ينافي المشروعية والإباحة بمعنى عدم الإثم في الفعل والترك كما قدمناه (رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٧٨، ط.س. ج٢ ص٥١١). ظفير

(٣) ولو سلم ساهيا إن بعد إمامه لزمه السهو وإلا لا الخ ولو ظن الإمام السهو فيسجد له فتابعه فبان ان لا سهو فالأشبه الفساد لإقتدائه في موضع الإنفراد (درمختار) وفي الفيض وقيل لا تفسد وبه يفتى في البحر عن الظهيرية قال الفقيه ابو الليث في زماننا لا تفسد لأن الجهل في القراءة غالب (رد المحتار قبيل باب الإستخلاف ج١ ص٥٢٠، ط.س. ج١ ص٥٩٩). ظفير

په واجب او سنت لمانځه کي په اوله قعده کي دالتحيات وروسته په دوباره لوستلو سره سجده سهو نه لازميږي: **سوال**: (۲۰۷۸) په سنتو او واجبو لمونځونو کي چي په اوله قعده کي دالتحيات څخه وروسته درود ولوستل سي نو سجده سهوه به واجبه سي اوکه نه؟ او همدغه ډول په سننو او واجبوکي چي اوله قعده ورڅخه هيره سي او ودريږي نو ددريم رکعت دسجدي کولو څخه مخکي په يادېدلو سره کښيني اوکه نه؟

جواب: په واجب لمانځه مثلا وتروکي همغه حکم دی کم چي په فرض لمانځه کي دی نوکه چيري په دوی کي دتشهد څخه وروسته درود شريف وويل سي نو سجده سهوه به لازمه سي، اوپه سنت مؤکدو کي دوه قوله دي ليکن دسجدي واجبوالی أحوط دی (۱) او دلومړی قعدي دپريښودلو هغه احکام دي چي دفرضو دلومړی قعدي په پريښودلو کي دي چي که ناستي ته څيرمه وي کښېدني اوکه ولاړي ته څيرمه وي نه دي کښيني اوپه اخرکي دي سجده سهوه وکړي. (۲) فقط

که درکعتونو په شمار کي سهوه وسي نوپه غالب ګمان دي عمل وکړي: **سوال**: (۲۰۷۹) خاکسار ته په لمانځه کي درکعتونو او سجدوپه شميوه کي سهو کيږي نوڅه کول ښايي؟

جواب: په دي صورت کي دي دغالب ګمان اعتبار (۳) اوپرهغه باندي بناء وکړی. فقط

په دوه رکعتيز لمانځه کي دتشهد لوستلو څخه وروسته چي دريم رکعت پورته سي اوبيا کښيني نو سجده سهوه ضروي ده: **سوال**: (۲۰۸۰) يوه سړي ددوو رکعتو سنت مؤکدو يا

---

(۱) ولا يزيد في الفرض على التشهد في القعدة الاولى إجماعا فإن زاد عامدا كره فتجب الإعادة او ساهيا وجب عليه سجود السهو إذا قال اللهم صل على محمد فقط على المذهب المفتى به لا لخصوص الصلوة بل لتأخير القيام (درمختار) قوله لا يزيد في الفرض اى في الفرض وما ألحق به كالوتر والسنن الرواتب وإن نظر صاحب البحر فيها (رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٧٢، ط.س. ج١ ص٥١٠). ظفير

(۲) سها عن القعود الأول من الفرض ولو عمليا أما النفل فيعود ما لم يقيد بالسجدة ثم تذكر عاد إليه وتشهد ولا سهو عليه في الأصح مالم يستقم قائما به ظاهر المذهب وهو الأصح والا اى إن إستقام قائما لايعود لإشتغاله بفرض القيام وسجد للسهو لترك الواجب (درمختار) قوله عمليا كالوتر فلا يعود فيه إذا إستتم قائما قوله أما النفل فيعود الخ جزم به في المعراج والسراج وعلله ابن وهبان بأن كل شفع منه صلوة على حدة ولاسيما على قول محمد بأن القعدة الأولى منه فرض فكانت كالأخيرة وفيها يقعد وإن قام حكى في المحيط فيه خلافا وكذا في شرح التمرتاشي قيل يعود وقيل لا يعود في الخلاصة والأربع قبل الظهر كالتطوع وكذا الوتر عند محمد وتمامه في النهر لكن في التتارخانية عن العتابية قيل في التطوع يعود ما لم يقيد بالسجدة والصحيح أنه لايعود اهـ واقره في الإمداد لكن خالفه فى المتن تأمل (ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٧، ط.س. ج٢ ص٨٣). ظفير

(۳) وإذا شك في صلاته من لم يكن ذلك اى الشك عادة له الخ كم صلى إستأنف الخ وإن كثر شكه عمل بغالب ظنه إن كان له ظن للحرج وإلا أخذ بالأقل لتيقنه وقعد في كل موضع توهمه موضع قعود (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٥ - ٧٠٢، ط.س. ج٢ ص٩٢ - ٩٣). ظفير

فرضو لمونځ وکړی چي کله يي التحيات ولوستل نو سهوا ودريدی يعني ددريم رکعت دالحمد لوستلو وروسته ورته ياد سوه نو کښينستی او سلام يي وګرځوی دغه لمونځ وسو اوکه يي راګرځول په کار دي، اوکه سجده سهوه کول په کار وو، او څوك چي وايي چي نه يي راګرځول پکار دي اونه سجده سهوه کول پکار دي داخبره صحيح ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي سجده سهوه کول په کار وو، ځکه چي دلته دفرضو تاخير اودواجبو ترك راغلی دی او که يي سجده سهوه ونه کړه نوپه لمانځه کي نقصان پاته سو او ددي لمانځه اعاده واجبه ده اوکم سړي چي دا مسئله ښودلي ده چي دسجده سهوي اړتيا نه وه اوکله چي يي سجده سهوه ونه کړه نو دلمانځه اعاده واجبه نه ده، هغه دا مسئله غلطه ښودلي ده هغه ته معلومه نه ده نو دهغه قول ته اعتبار ورکول نه ښايي. ([1]) فقط

که چيري دمسبوق څخه په باقي مانده رکعت کي سهوه وسي نو سجده سهوه پرلازمه ده:

سوال: (٢٠٨١) مسبوق ته چي دجماعت دختميدلو څخه وروسته په پاته رکعت کي سهوه پيښه سي نوسجده سهوه به کوی اوکه نه؟

جواب: سجده سهوه کول ښايي. ([2]) فقط

په رکوع کي دتسبيح پرځای په بسم الله لوستلو سره سجده سهوه سته اوکه نه؟ سوال:

(٢٠٨٢) که څوك په رکوع کي دتسبيح پرځای بسم الله الرحمن الرحيم ووايي نو سجده سهوه به واجبه سي اوکه نه؟ اوپه تشهدکي په قراءت ويلو سره سجده سهوه لازميږي اوکه نه؟

جواب: په رکوع کي دتسبيح پرځای په بسم الله الرحمن الرحيم ويلو سره سجده سهوه نه لازميږي ځکه چي درکوع تسبيحات واجب نه دي اوتشهد واجب دی هلته په داسي کولو سره يعني دتشهد په پريښودلو سوه سجده سهو لازميږي. فقط ([3])

([1]) ولو سها عن القعود الأخير كله او بعضه يعاد الخ وإن قعد في الرابعة مثلا قدر التشهد ثم قام عاد الخ وسجد للسهو في الصورتين لنقصان فرضه بتأخير السلام في الأولى وتركه في الثانية (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٨، ط.س. ج٢ ص٨٥). ظفير

([2]) والمسبوق من سبقه الإمام بها او ببعضها وهو منفرد حتى يثنى ويتعوذ الخ فيما يقضيه (درمختار) قوله حتى يثنى الخ تفريع على قوله منفرد فيما يقضيه بعد فراغ إمامه حتى لو ترك القراءة فسدت الخ ويلزمه السجود إذا سها فيما يقضيه (رد المحتار باب الإمامة مطلب في المسبوق واللاحق ج١ ص٥٥٧، ط. س. ج١ ص٥٩٦). ظفير

([3]) ويلزمه إذا ترك فعلا مسنونا كأنه اراد به فعلا واجبا الخ او ترك قراءة الفاتحة الخ او القنوت او التشهد او تكبيرات العيدين لأنها واجبات (هدايه باب سجود السهو ج١ ص١٤٠). ظفير

دسورت فاتحي په تكرارسره سجده سهو لازميږي اوكه نه؟ **سوال:** (۲۰۸۳) دسورت فاتحي په تكرار سره سجده سهوه لازميږي اوكه نه؟

جواب: په اولنيو دوو ركعتونوكي دسورت فاتحي په تكرار سره سجده سهوه لازميږي. كما في الشامي قوله وكذا ترك تكريرها فلو قرأها في ركعة من الأوليين مرتين وجب سجود السهو لتأخير الواجب وهو السورة كما في الذخيرة وغيرها (۱) الخ. فقط

دڅلور ركعتيز لمونځونو په اخري ركعتونوكي دسورت په ويلو سجده سهوه نه لازميږي: **سوال:** (۲۰۸۴) دڅلورو فرضو په وروستنيو ركعتونوكي يي سورت دفاتحي سره يوځاى كړى نو سجده سهوه لازميږي اوكه نه؟ كه چيري په دي صورت كي دركن تاخير نه راځي نوپه لومړۍ قعده كي د: اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ په ويلو سره څنګه دركن تاخير راځي چي سجده سهوه وربانديلازميږي او دعدم مشروع قراءت مطلب څه دى؟

جواب: په اخري دوو ركعتونو كي دسورت په يوځاى كولو سره سجده سهوه نه لازميږي ځكه چي په اخري دوو ركعتوكي اكتفا په سورت فاتحه باندي واجبه نه ده تر څو يي په زياتوالي دواجب ترك راسي بلكه دسورت ديوځاى كولو اونه كولو اختيار وركړل سوى دى اګركه دسورت نه لوستل غوره او مسنون دي او لومړى قعده داسي نه ده هلته پرتشهد شريف باندي بس والي او درود شريف نه ويل واجب دي په درمختار كي دي: واكتفى المفترض فيما بعد الأوليين بالفاتحة فإنها سنة على الظاهر ولو زاد لابأس به (۲) الخ. فقط

كه چيري مسبوق په خپل پاته لمانځه كي قعده پريږدي نو سجده سهوه به وربانـدي لازمه سي: **سوال:** (۲۰۸۵) مسبوق دامام سره دماښام په لمانځه كي يو ركعت ونيوى او دامام دسلام ګرځولو وروسته يي دوه ركعته وكړل، او وروستنۍ قعده يي وكړه يعني لومړى قعده يي ونه كړه نو پرده باندي سجده سهوه واجبه ده اوكه نه؟ دسجده سهوي پرته يي لمونځ وسو اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي پردي مسبوق باندي سجده سهوه واجبه ده او دسجده سهوي نه كولو په صورت كي دلمانځه اعاده واجبه ده. (۳) فقط

---

(۱) رد المحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة ج۱ ص۴۲۹. ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة الفصل ج۱ ص۴۷۷، ط.س. ج۱ ص۵۱۱، اى لو ضم إليها سورة لا بأس به لأن القراءة في الأخريين مشروعة من غير تقدير والإقتصار على الفاتحة مسنون لا واجب فكان الضم خلاف الأولى وذلك لا ينافي المشروعية والإباحة بمعنى عدم الإثم في الفعل والترك الخ رد المحتار باب ايضا ج۱ ص۴۷۷، ط.س. ج۱ ص۵۱۱). ظفير　　=

<u>دسهار په لمانځه کي ددويم رکعت څخه وروسته په هيره ودريدی نو سمدستي دي کښيني</u>:

سوال: (۲۰۸۲) که دسهار په لمانځه کي ددويم رکعت دکولو وروسته پرته دقعدي سهوا ودريږي او په دريم رکعت کي دالحمد او سورت دلوستلو وروسته ورته ياد سي، نو هغه وخت کښيني اوکه رکعت پوره کړي؟

جواب: هغه وخت دي کښيني او سجده سهو دي وکړي لمونځ به يې صحيح سي. (¹) فقط

<u>که په اول رکعت کي ورځخه دسورت پيوست کول هير سي نوڅه وکړي؟</u> **سوال**: (۲۰۸۷) دسنتو يا نفلو يا فرضو په لومړي رکعت کي يې دسورت فاتحي څخه وروسته سهوا سورت ونه وايه اورکوع يې وکړه نو اوس دقيام لوري ته وګرځي اوکه سجدي ته ولاړ سي؟

جواب: قومه دي وکړي او سجدي ته دي ولاړ سي او دلمانځه په پای کي دي سجده سهوه وکړي. (²) فقط

<u>يوه لوري ته دسلام ګرځولو وروسته دي سجده سهو وکړي او تشهد دي پوره ووايي</u>: **سوال**: (۲۰۸۸) سجده سهوه يوه لوري ته دسلام ګرځولو وروسته پکار ده اوکه دواړو لورو ته، او دنيمي التحيات لوستلو وروسته دي سلام وګرځوي اوسجده سهوه وکړي اوکه دپوره التحيات لوستلو وروسته؟ اودسجده سهوي بعد ترالتحيات وروسته سلام وګرځوي که

(³) والمسبوق يسجد مع إمامه مطلقا سواء كان السهو قبل الإقتداء او بعده ثم يقضي ما فاته ولو سها فيه سجد ثانيا (درمختار) لو سها فيه اي فيما يقضي بعد فراغ الإمام يسجد ثانيا لأنه منفرد والمنفرد يسجد لسهوه. (رد المحتار باب سجود السهو ج۱ ص۲۹۵، ط.س. ج۲ ص۸۵). ظفير

(¹) ولو سها عن القعود الأخير كله او بعضه عاد الخ ما لم يقيدها بسجدة لأن مادون الركعة محل الرفض وسجد للسهو لتأخير القعود (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار باب سجودالسهو ج۱ ص۲۹۸،ط.س. ج۲ ص۸۵.) ظ

(²) دعلامه شامي دڅرګندوني څخه معلوميږي چي په ياد سوي صورت کي غوره دا ده چي بيرته دي وګرځي او سورت دي ووايي بيا دي رکوع وکړي اوپه پای کي دي سجده سهوه وکړي اګر که دا صورت هم صحيح دی چي درکوع څخه وروسته سجدي ته ولاړ سي اوپه پای کي سجده سهوه وکړي، لکه څنګه چي په جواب کي ذکر دي: بترك واجب سهوا كركوع قبل قراءة الواجب بوجوب تقديمها ثم إنما يتحقق الترك بالسجود فلو تذكر ولو بعد الرفع من الركوع عاد ثم أعاد الركوع (مختصرا من درمختار) قوله عاد أى إلى القيام ليقرأ (رد المحتار باب سجود السهو ج۱ ص۲۹۳، ط.س. ج۲ ص۸۰) شامي ددواړو صورتونو يادونه کړيده چي ټول قراءت پرېښودل سي يا يوازي سورت، أما إذا قرأ الفاتحة مثلا ركع فتذكر السورة فعاد فقرأها الخ (ايضا) دبل ځای عبارت دادی: ولو ترك سورة اولى العشاء مثلا ولو عمدا قرأ وجوبا وقيل ندبا مع الفاتحة جهرا في الأخريين الخ ولو تذكرها في ركوعه قرأها واعاد الركوع (درمختار) قوله ولو تذكرها اى السورة قوله قرأها أى بعد عوده إلى القيام قوله وأعاد الركوع لأن ما يقع من القراءة في الصلوة يكون فرضا فيرتفض الركوع ويلزمه إعادته لأن الترتيب بين القراءة والركوع فرض كما مر في الواجبات الخ (ردالمحتار فصل في القراءة ج۱ ص۴۹۹ – ۵۰۰، ط.س. ج۱ ص۵۳۵). ظفير

څنګه وکړي؟

جواب: دپوره التحیات څخه وروسته دي یوه لوري ته سلام وګرځوي بیا دي دوې سجدې دسهوي وکړي بیا دي مکمل التحیات او درود شریف ووایي او سلام دي وګرځوي فقط (١) (ددرود شویف څخه وروسته دي دعا هم ووایي. ظفیر)

دفرضو په لومړنیودوو رکعتونو کې ورڅخه دسورت یوځای کول هیر سوه اوسجده سهوه یې وکړه نو لمونځ وسو: **سوال**: (٢٠٨٩) دفرضو په لومړنیو دوو رکعتونوکي یا یوه رکعت کي ورڅخه دسورت یوځای کول هیرسوه نودسجده سهوي سره یې لمونځ کیږي اوکه نه؟

جواب: سورت یوځای کول واجب دي دهغو په پرېښوولو سره سجده سهوه لازمیږي، نو په پوښتل سوي صورت کي دسجده سهوي په کولو سره لمونځ وسو او دراګرځولو اړتیا یې نسته. فقط (٢)

که چیرې مسبوق دامام سره سلام وګرځوي نوڅه حکم لري؟ **سوال**: (٢٠٩٠) که چیرې مسبوق سهوا دامام سره سلام وګرځوي نو درې صورته یې لیکلي دي، که یې دامام څخه مخکې یا دهغه سره یوځای سلام وګرځوي نو لمونځ دسجده سهوي پرته صحیح دی، اوکه یې دامام څخه وروسته سلام وګرځوي نو ایا دسجده سهوي پرته به دلمانځه اعاده لازمه وي او دمع الإمام معنی څه ده؟

جواب: دامام څخه که چیرې لږ هم وروسته وي نو پرمسبوق باندې سجده سهوه لازمه ده ځکه یې په شامي کي لیکلي دي چې معیت حقیقي ګران دی شاذ او نادر دی، ځکه نو عموما دسجده سهوي دلزوم حکم کول کیږي. (٣) فقط

په اخري قعده کي یې درود او دعا ختمولو وروسته په ځنډ سره سلام وګرځوي نو آیا سجده سهوه لازمه ده؟ **سوال**: (٢٠٩١) په اخري قعده کي یې دتشهد او درود شریف څخه

---

(١) وکیفیته أن یکبر بعد سلامه الأول ویخر ساجدا و یسبح في سجوده ثم یفعل ثانیا کذلك ثم یتشهد ثانیا ثم یسلم ویأتي بالصلوة علی النبي ﷺ والدعاء في قعدة السهو هو الصحیح الخ (عالمګیري مصري في سجود السهو ج١ ص١١٧، ط. ماجدیة ج١ ص١٢٥). ظفیر

(٢) ولو قرأ الفاتحة وحدها و ترك السورة یجب علیه سجود السهو (عالمګیري مصري سجود السهو ج١ ص١١٨، ط.ماجدیة ج١ ص١٢٢). ظفیر

(٣) ولو سلم ساهیا إن بعد إمامه لزمه السهو وإلا لا (درمختار) قوله لزمه السهو لأنه منفرد في هذه الحالة قوله وإلا لا، اى وإن سلم معه او قبله لا یلزمه لأن مقتد في هاتین الحالتین وفي شرح المنیة عن المحیط إن سلم في الأولی مقارنا لسلامه فلا سهو علیه لأنه مقتد به وبعده یلزم لأنه منفرد آهـ ثم قال فعلی هذا یراد بالمعیة حقیقتها وهو نادر الوقوع آه قلت یشیر إلی أن الغالب لزوم السجود لأن الأغلب عدم المعیة وهذا مما یغفل عنه کثیر من الناس (ردالمحتار باب الإمامة قبیل باب الإستخلاف ج١ ص٥٢٠، ط.س. ج١ ص٥٩٩). ظفیر

وروسته ترڅه وخته پوري سکوت وکړي او سلام يي ونه ګرځوی نو سجده سهوه واجبه ده اوکه نه؟ او دوجوب په صورت کي دوباره دسجده سهوي تشهد ووايي که نه؟

جواب: په دي صورت کي سجده سهوه واجبه نه ده. ([1]) فقط

لاحق به دامام سره سجده کوي اوکه نه؟ سوال: (٢٠٩٢) لاحق به دامام سره سجده سهو کوي اوکه نه؟ که يي چيري نه کوي نو په هغه وخت کي به دي څه کوي؟

جواب: په درمختار کي دي چي لاحق دي دامام سره سجده سهوه نه کوي بلکه دلمانځه په پای کي دي وکړي او په دغه وخت کي دي ناست اوسي اوکه چيري دامام سره سجده سهوه وکړي هم بيابه يي دلمانځه په پای کي بيا کوي او لمونځ يي صحيح دی. درمختار ([2]) فقط

که چيري يي ديوه سورت ديوي برخي لوستلو وروسته بل سورت پيل کړی نو لمونځ کيږي اوکه نه؟ سوال: (٢٠٩٣) يوه سړی په فرض لمانځه کي دالحمد شريف څخه وروسته دارکوع (يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا تَّقُوا اللّٰهَ) تر (كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللّٰهَ) پوري ولوستل اوبل سورت يي پيل کړی اودسجده سهوي کولوپرته يي لمونځ پای ته ورسوی نولمونځ وسواوکه نه؟

جواب: که چيري دتحريمي په اندازه ځنډي نه وي سوی نو سجده سهوه لازمه نه ده. ([3]) (او لمونځ يي وسو ظفير)

په يوه لوی ايت سره لمونځ کيږي: سوال: (٢٠٩٤) [١] ديوه لوی ايات په لوستلو سره لمونځ کيږي اوکه نه؟ يو ايت يي ولوستی او نور ورڅخه هير سوه بل سورت يي پيل کړی لمونځ يي وسو اوکه نه؟ ځنډ يي بالکل نه دی کړی نو سجده سهوه ورباندي واجبه ده اوکه نه؟

دقراءت ترهيريدلو وروسته چي امام څومره وخت پته خوله ولاړ اوسي نو سجده سهو ورباندي

([1]) أما لو تفكر في صلاة قبلها هل صلاها ام لا ففي المحيط انه ذكر في بعض الروايات انه لا سهو عليه وإن أخر فعلا كما لو تفكرمن أمور الدنيا حتى أخر ركنا الخ (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٧، ط.س. ج٢ ص٩٤). ظفير

([2]) وحكمه كمؤتم فلا يأتى بقراءة ولا سهو ويضر فرضه بنية إقامة ويبدأ بقضاء ما فاته عكس المسبوق (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الإمامة مطلب في المسبوق واللاحق والمدرك ج١ ص٥٥٧، ط.س. ج١ ص٥٩٥). ظفير

([3]) منشأ داده چي دنومړي رکوع دیادي سوي برخي دلوستلو وروسته که يي چيري فورا بل سورت پيل کړی او ديوه رکن په اندازه ځنډ يي ونه کړی نو سجده سهوه واجبه نه ده: واعلم أنه إذا شغله ذلك الشك ففكر قدر اداء ركن ولم يشتغل حالة الشك بقراءة ولا تسبيح وجب عليه سجود السهو (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٢، ط.س. ج٢ ص٩٣). ظفير

واجبيږي؟ سوال: (٢٠٩٥) [٢] كه چيري دقراءت دلوستلو په مهال ورڅخه هيره وسي نو په څومره وخت ځنډ كولو باندي سجده سهوه لازميږي؟

جواب: [١] لمونځ وسو دسورت فاتحي سره ديوه اوږده يا دريو لنډو اياتونو په يوځاى كولو سوه لمونځ كيږي، سجده سهوه هم لازمه نه ده. (١)

[٢] ديوه ركن په اندازه په ځنډ كولو سره سجده سهوه لازميږي. (٢) فقط

كه په خپله يي يقين وي چي ما ركعتونه پوره كړي دي او نور خلك ورته ووايي چي كم دي نوڅه وكړي ؟ سوال: (٢٠٩٦) [١] يوسړى يقين لري چي ما دڅلور ركعته كولو وروسته سلام وګرځوى ليكن يو دوه سړي وايي چي تا په دريو ركعتو باندي سلام ګرځولى دى نو دغه لمونځ راوګرځوي او كه په خپل يقين باندي عمل وكړي؟

كه څوك دسهار ددوو ركعتو پرځاى څلور او دمازديګر دڅلورو ركعتو پرځاى شپږ وكړي نوڅه حكم لري؟ سوال: (٢٠٩٧) دسهار لمونځ يي ددوو ركعتو پرځاى څلور ركعته وكړى همدا ډول دمازديګر لمونځ يي دڅلورو ركعتو په ځاى شپږ ركعته وكړى نوپه سجده سهوي كولو سره لمونځ كيږي اوكه نه؟ كه چيري كيږي نو ايا دوه ركعته به نفل وګرځي اوپه دي دواړو وختونوكي دمكروه والي له امله نفل لمونځ كوونكى ګنهګاردى اوكه نه؟

جواب: [١] دهغه لمونځ صحيح دى، او په خپل يقين باندي اعتماد كول كافي دي. (٣)

[٢] په دي صورت كي كه چيري ده اخري قعده كړي وي او بيا ولاړ سوى وي او دوه ركعته يي نور ورسره يو ځاى كړي وي نو بيا دسجده سهوي په كولو سره دده لمونځ تكميل كيږي، او دا دوه ركعته به يي نفل سي او پر كوونكي باندي هيڅ ګناه نسته قال في الدرالمختار وضم إليها سادسة ولوفي العصر وخامسة في المغرب ورابعة في الفجر

---

(١) وضم أقصر سورة كالكوثر اوما قام مقامها وهو ثلاث أيات قصار نحو (ثم نظر ثم عبس وبسر ثم أدبر واستكبر) وكذا لو كانت الآية او الآيتان تعدل ثلاثا قصارا (درمختار) وهى ثلاثون حرفا فلو قرأ اية طويلة قدر ثلاثين حرفا يكون قد أتى بقدر ثلاث أيات الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة واجبات الصلوة ج١ ص٤٢٧، ط.س. ج١ ص٤٥٨). ظفير

(٢) فلو اتم القراءة فمكث متفكرا سهوا ثم ركع الخ سجد للسهو (الدر المختار على هامش ردالمحتار واجبات الصلوة ج١ ص٤٣٧، ط.س. ج١ ص٤٦٩) وتفكره عمدا حتى شغله عن ركن (درمختار) وأجاب في الحلية عن وجوب السجود في مسئلة التفكر عمدا بأنه وجب لما يلزم منه من ترك واجب هو تأخير الركن او الواجب عما قبله فإنه نوع سهوا (الدر المختار باب سجود السهو ج١ ص٧٩٣، ط.س. ج٢ ص٨٠). ظفير

(٣) واختلف الإمام القوم فلو الإمام على يقين لم يعد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٧، ط.س. ج٢ ص٩٤). ظفير

به يفتى لتصير الركعتان له نفلا (قوله ولو في العصر الخ) أشار إلى أنه لا فرق في مشروعية الضم بين الأوقات المكروهة وغيرها لما مر أن التنفل فيها إنما يكره لو عن قصد وإلا فلا وهو الصحيح ([1]) شامي. فقط

په سنتو کي دالتهيات پرځاى فاتحه ولوستله نو سجده سهو لازميږي اوکه نه؟ سوال: (٢٠٩٨) په مؤکدو سنتو کي يې دالتحيات پرځاى سورت فاتحه ولوستله چي کله ورپه زړه سوه نو التحيات يې ولوستل نوسجده سهوه لازمه سوه اوکه نه؟

جواب: نسته. ([2]) (په دي کي دا تفصيل دى چي که يي سورت فاتحه دتشهد پرځاى ولوستله يا يي مخکي فاتحه ولوستله بيا تشهد نو په دواړو صورتونوکي سجده سهوه واجبيږي اوکه يې مخکي التحيات ولوستل او بيا فاتحه نو سجده سهوه نه لازميږي، ظفير). فقط

په جهري لمانځه کي په پټ لوستلو سره سجده سهوه: سوال: (٢٠٩٩) په جمع او نورو هغو لمونځونوکي چي دقراءت بالجهر حکم دى که چيري په هيره سره قرائت پټ ووايي نو سجده سهوه واجبيږي اوکه نه؟

جواب: په کم لمانځه کي چي جهر واجب نه دى په هغه کي دجهر په پرېښودلو سره سجده سهوه نه لازميږي او په کم لمانځه کي چي جهر واجب دى لکه دجمعي لمونځ هلته دجهر په پرېښودلو سره سجده سهوه لازميږي. ([3]) ليکن دجمعي په لمانځه کي دسجدى سهوي حکم نسته ([4]) وباقي التفصيل يطلب من کتب الفقه. فقط

دمسبوق دامام سره دسلام ګرځول اوسجده سهوه: سوال: (٢١٠٠) دمسبوق دسلام په کم صورت کي پرهغه باندي سجده سهوه لازميږي دمقارنت په صورت کي او که دوروسته والي په صورت کي په هر حال دسجده سهوي لامل څه شى دى؟

([1]) رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٠، ط.س. ج٢ ص٨٢. ظفير

([2]) واذا قرا الفاتحة مكان التشهد فعليه السهو وكذلك إذا قرأ الفاتحة ثم التشهد كان عليه السهو وكذا روي عن ابي حنيفة الخ ولو بدأ بالتشهد ثم بالقراءة فلا سهو عليه الخ (عالمگيري مصري الباب الثاني عشر في سجود السهو ج١ ص١١٩، ط.س. ج١ ص١٢٧) ددي جزئيي څخه معلومه سوه چي په دي صورت کي سجده سهوه سته. والله اعلم. ظفير

([3]) والجهر فيما يخافت فيه للإمام وعكسه لكل مصل في الأصح والأصح تقديره بقدر ما تجوز به الصلوة في الفصلين وقيل قائله قاضيخان يجب السهو بهما أى بالجهر والمخافة مطلقا أى قل اوكثر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٤ – ٦٩٥، ط.س. ج٢ ص٨١). ظفير

([4]) والسهو في صلوة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتأخرين عدمه في الأوليين لدفع الفتنة كما في جمعة البحر. (ايضا ج١ ص٧٠٥، ط.س. ج٢ ص٩٢). ظفير

جواب: حقیقتـا مقارنت یعنـي یوځـای والـی نـادر الوقـوع دی، یعنـي پـه داسـي ډول چي دمسبوق سلام دامام سره په یوه ځای پیل او دهغه سره په یوه ځـای ختـم سـي، ددي نـادر الوقوع سلام ګرځولو څخه وروسته سهوا مسبوق سلام وګرځوی نو سجده سـهوه پرهغـه باندي لازمه ده، ځکه چي بعدیت یعني وروسته والی دلته متحقق دی. (^١) فقط

که په مینځ کي دایت یوه برخه پاته سي نو سجده سهوه لازمیري اوکـه نـه؟ سوال: (٢١٠١)

دسورت بقري داخري ایت: لا یکلف الله نفسا إلا وسعها څخه یي لمونځ پیـل کـړی خـو سـهوا یـي: رَبَّنَـا وَلاَ تَحْمِلْنَـا مَـا لاَ طَاقَـةَ لَنَـا بِـهِ وَاعْـفُ عَنَّـا پریـښوو‌ی او نـور یـي ترپایـه ولوستی نو سجده سهوه واجبه ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي سجده سهوه واجبه نه ده او لمونځ وسو، (^٢)

دسجده سهوي څخـه وروسـته چـي دتـشهد پرځـای الحمـد ووایـي نـو څـه حکـم دی؟ سـوال:

(٢١٠٢) زید په لمانځه کي دواجب دپریښودلو لـه أملـه سـجده سـهوه وکـړه وروسـته یـي دتشهد پرځای الحَمد ولوسته چي ورپه زړه سوه نو دوباره یې سجده سهوه وکړه اوفـورا یې تشهد شروع کړی ، نوڅه حکم دی؟

جواب: بیا دي تشهد ووایي ددوباره سجده سهوي کولو اړتیا نسته. فقط (^٣)

که دمقتدي څخه یو رکن هیر سي نو څه وکړي؟ سوال: (٢١٠٣) که چیري دمقتدي څخه په امام پسي دلمانځه یو رکن هیـر سـي مـثلا رکـوع، سـجده، التحیـات، نـو هغـه پـوره کـړي اوکه سجده سهوه وکړي؟

جواب: که دمقتدي څخه په امام پسي یو رکن لکه رکوع، یا سجده پاته سي، نو هغـه دي په لمانځه کي یـا دلمانځـه څخـه وروسـته پـوره کـړي اوکـه واجب ورڅخـه پاتـه سـي لکـه التحیات نو دهغو اعاده وروسته نسته او سجده سهوه هم په هغه باندي واجبه نه ده کما في الدرالمختار: لا بسهوه اصلا (درمختـار) أی لا قبـل الـسلام للزوم مخالفـة الإمـام ولا بعده لخروجه عن الصلوة بسلام الإمام الخ وروی ابن عمـر ﷺ عن النبی ﷺ لیس علی

(^١) والمسبوق یسجد مع إمامه مطلقا سواء کان السهو قبل الإقتداء او بعده الخ (درمختار) قید بالسجود لأنه لا یتابعه في السلام بل یسجد معه ویتشهد فإذا سلم الامام قام إلی القضاء فإن سلم عامدا فسدت وإلا لا، ولا سجود علیه إن سلم سهوا قبل الإمام او معه وإن سلم بعده لزمه لکونه منفردا حینئذ بحر، والمراد بالمعیة المقارنة وهو نادر الوقوع کما في شرح المنیة (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٢). ظفیر

(^٢) دلته دسجده سهوي کمه وجهه نسته ځکه چي دکم واجب ترك یا دهغه تقدیم او تاخیر نه ورسره راغی. ظفیر

(^٣) وإذا قرء الفاتحة مکان التشهد فعلیه السهو وکذلك إذا قرأ الفاتحة ثم التشهد کان علیه السهو کذا روی عن ابي حنیفة الخ ولو بدء بالتشهد ثم بالقراءة فلا سهو علیه (عالمګیري مصري باب سجود السهو ج١ ص١١٩، ط.س. ج١ ص١٢٧). ظفیر

من خلف الامام سهو. الخ (١) شامي. فقط

دځلورم رکعت څخه وروسته فورا پورته سو او پنځم رکعت يې هم وکړي اوسجده سهو يې وکړه لمونځ يې ختم کړي په دې صورت کې څه حکم دی؟ سوال: (٢١٠۴) دماسخوتن په لمانځه کي چي څلور رکعته وسوه نو دامام دا خيال راغی چي دری رکعته سوي دي په دي وجه پورته سو ځيني مقتديان کښينستل او امام ته يي اشاره وکړه خو امام نه کښېنستی بلکه دپنځم رکعت رکوع او سجده يي وکړه او سجده سهوه يي وکړه او لمونځ يي ختم کړی په دي صورت کي دامام لمونځ وسو اوکه نه؟ او هغه مقتديان چي داخري قعدي په غرض اول ناست وه او بيا دامام سره دپنځم رکعت په رکوع کي شامل سوي وه دهغوی لمونځ هم وسو اوکه نه؟

جواب: کله چي امام په څلورم رکعت کي نه کښېنستی او پنځم رکعت ته پورته سو رکوع او سجده يي وکړه او کښينستی نو داخري قعدي دفوت کيدو له امله دامام لمونځ ونه سو، نو په مقتديانو کي هم دچا لمونځ ونه سو نه دمسبوق نه دمدرك. (٢)

كه دقراءت تكرار وسي نو څه حكم دی؟ سوال: (٢١٠۵) يو سړي يوه رکوع مکرره په دواړو رکعتوکي ولوستله او سجده سهوه يي ونه کړه نو لمونځ يي وسو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي لمونځ وسو او سجده سهوه واجبه نه ده. (٣) فقط

سجده سهوه ديوه سلام څخه وروسته ده اوکه ددواړو سلامونو؟ سوال: (٢١٠٦) سجده سهوه ددواړو سلامونو څخه وروسته ادا کړي اوکه ديوه؟

جواب: ديوه سلام څخه وروسته دي ادا کړي، دليله قول الدر المختار يجب بعد سلام واحد عن يمينه (إلى قوله) سجدتان. فقط والله تعالى أعلم

دآيت په تکرارولو سره سجده سهوه لازميږي اوکه نه؟ سوال: (٢١٠٧) دتراويحو لمونځ چي هغه سنت مؤکد دی که په هغوکي يو سړی يا مخ ته سوی حافظ دشلو سړيانو په جماعت کي يو ايت دري څلور ځله ووايي نو سجده سهوه اړينه ده اوکه نه ځکه چي په اردو مفتاح الصلوة ص٨٢ کي ليکلي دي چي که يي همدغه ايت دوه دري ځله تکرار کړی نو سجده سهوه ورباندي لازمه ده، په درمختار جلد اول ٣٣٨ صفحه کي ليکلي دي چي په

---

(١) ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٥، ط.س. ج٢ ص٨٢. ظفير

(٢) وإن سهى عن القعدة الأخيرة حتى قام إلى الخامسة رجع إلى القعدة ما لم يسجد الخ وإن قيد الخامسة بسجدة بطلت فرضه عندنا (هدايه باب سجود السهو ج١ ص١۴٢). ظفير

(٣) لا بأس أن يقرأ سورة ويعيدها في الثانية (درمختار) أفاد أنه يكره تنزيها وعليه يحمل جزم القنية بالكراهة الخ (ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص٥١٠، ط.س. ج١ ص٥۴٢). ظفير

تراويحو كي دي دغير مشروعو كارونو څخه ځان ژغوري، او نور ... نو په دي صورتونو كي سجده سهوه ادا كول ښايي اوكه نه؟ مهرباني وكړی دكتابونو دحوالي سره يي راته وليكئ!

جواب: يو ايت څو څو واره لوستل دسجده سهوي دواجب والي لامل نه ګرځي او په مفتاح الصلوة كي چي څه ليكلي دي هغه مي په پوهه كي نه راغلل كيداى سي چي هغه په هغه ځاى كي وي چي يواځي يو ايت يي بيا بيا ويلی ویء ورڅه يي نه وي لوستي يا يي يواځي سورت فاتحه لوستلي وي او سورت يي نه وي لوستلی نو په دي صورت كي دواجب دپريښودلو له امله سجده سهوه لازميږي، ليكن په تراويحو كي داسي نه كيږي چي نور څه يي نه وي لوستلي په تراويحوكي ډير داسي پيښيږي چي دراتلونكي ايات دنه وريادېدلو له امله يو ايات په مكرر ډول ووايي په دي كي دسجده سهوي دلازميدلو هيڅ وجهه نسته او په شامي كي دي چي په اخترونو اوجمعه كي چي كله خلګ ډير وي نو سجده سهوه نه كول غوره دي: بل الأولى تركه لئلا يقع الناس في فتنة. او په درمختار كي هم دهغه عبارت څخه وروسته چي تاسو ليكلی داسي ليكلي دي چي غوره دمتاخرينو په وړاندي دا ده چي سجده سهوه دي نه كوي. فقط والله تعالى اعلم. (والسهو في صلوة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتأخرين عدمه في الأوليين (درمختار باب سجود السهو، قال في الشامي الظاهر ان الجمع الكثير فيما سواهما ايضا كذلك. شامي ج١ ص٧٨٧. جميل الرحمن). فقط

<u>يوه سجده يي وكړه او ولاړ سو اوس څه وكړي؟</u> سوال: (٢١٠٨) يوه سړي دلمانځه په لومړي ركعت كي ددوو سجدو څخه يواځي يوه سجده وكړه او ودريدی وروسته ورته ياده سوه چي يوه سجده مي نه ده كړي نو په دي حالت كي بايد څه وكړل سي؟

جواب: چي كم وخت ورته يادسي همغه وخت دي دوهمه سجده وكړي او بيا دي په پاى كي سجده سهوه وكړي. (١) فقط

<u>په زوائدو تكبيرونو كي په زيادت سره سجده سهوه نسته</u>: سوال: (٢١٠٩) كه داخترونو په لمونځونو كي دشپږو تكبيرونو پرځاى سهوا نهه تكبيرونه ووايي نو ايا سجده سهو لازميږي؟

جواب: دسجده سهوي اړتيا نسته. (٢)

---

(١) لو ترك سجدة من ركعة ثم تذكرها فيها بعدها من قيام او ركوع او سجود فإنه يقضيها ولا يقضيها هو بعد ركعتها من قيام او ركوع او سجود بل يلزمه سجود السهو فحسب. كبيري ص٢٩١. جميل الرحمن)

(٢) ويصلي الإمام بهم ركعتين مثنيا قبل الزوائد وهی ثلاث تكبيرات في كل ركعة ولو زاد تابعه إلى ستة =

امام اوله قعده پرېښوده پورته سو بيا کښېنستي نو څه حکم دي؟ سوال: (٢١١٠) امام اوله قعده پرېښوده او ودريدی بيا چي ويوهول سو نو کښېنستی او سجده سهوه يي وکړه نو لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: که چيري امام سهوا اوله قعده ونه کړه او ودريدی دخبرولو وروشته کښېنستی او سجده سهوه يي وکړه نو دصحيح قول مطابق دهغه لمونځ وسو ليکن هغه ته بيرته راګرځيدل نه وو په کار دا هغه ښه ونه کړل بلکه بد يي وکړل ځينو فقهاؤ په دي صورت کي دلمانځه دفساد حکم کړی دی خو صحيح داده چي لمونځ کيږي. (١) فقط والله اعلم

دفاتحي سره يې يوازي دوه واره اياتونه ولوستل داځه حکم لري؟ سوال: (٢١١١) [١] په لمانځه کي يي دفاتحي څخه وروسته سورت والعاديات ولوستي خو يوازی ددومره لوستلو وروسته رکوع ته ولاړی (والعاديات ضبحًا فالموريات قدحًا) نو په دي صورت کي ورباندي سجده سهوه سته اوکه نه؟

په والعاديات کي يې فَالْمُغِيْرَات پرېښووی ددې څه حکم دی؟ سوال: (٢٩١٢) [٢] دالحَمد څخه وروسته يي والعاديات ولوستی ليکن (فالمغيرات صبحا) يي پريښووی او نور ټول سورت يي ولوستی سجده سهوه ورباندي لازمه ده اوکه نه؟

ددرود او دعا څخه وروسته سجده سهو وکړي اوکه نه؟ سوال: (٢١١٣) [٣] که چيري سجده سهوه ورباندي واجبه وه او درود شريف او دعا يي ولوستل نو اوس سجده سهوه وکړي اوکه نه؟

جواب: [١] په دي صورت کي واجب پريښودل سو که چيري سهوا داسي سوي وي نو سجده سهو دي وکړي اوکه سهوا نه وي سوي نو دلمانځه اعاده دي وکړي (في الدرالمختار في بيان واجبات الصلوة وضم أقصر سورة كالكوثر او ما قام مقامهما الخ. جميل البرحمن)

[٢] په دي صورت کي سجده سهوه نسته.

[٣] سجده سهوه ددرود شريف څخه وروسته هم کول په کاردي.

په جهري لمانځه کي يې پټ لوستل وکړل او بيايي په جهر سره ولوستل ددې څه حکم دی؟

= عشر لأنه مأثور آه درمختار ج١ ص٧٠٨، ط.س. ج٢ ص١٧٢. ظفير

(١) وإلا أي وإن إستقام قائما لا يعود لإشتغاله بفرض القيام وسجد للسهو لترك الواجب فلو عاد إلى القعود بعد ذلك تفسد صلوته لرفض الفرض لما ليس بفرض وصححه الزيلعي وقيل لا تفسد لكنه يكون مسيئا ويسجد ولتأخير الواجب وهو الأشبه كما حققه الكمال وهو الحق بحر آه درمختار ج١ ص٢٩٧ على هامش الشامي ط.س. ج٢ ص٨٤. ظفير

سوال: (۲۱۱۴) امام په جهري لمانځه کي قراءت پټ ولوستی وروسته ورپه زړه سو چي لمونځ جهري دی هغه لږ څه قراءت لوستلی وو خو بیا یي دپیل څخه ولوستل دهغه لمونځ وسو اوکه نه؟ او سجده سهوه وکړي که نه؟ اوکه یي سجده سهوه ونه کړه لمونځ یي کیږي اوکه نه؟

جواب: دهغه لمونځ سو دبیا راګرځولو هیڅ اړتیا نسته اوکه چیري یي ددریو ایاتونو په اندازه سرًا لوستل کړي وو نو سجده سهو وربانديلازمه ده کنې نه ده او دسجدي دواجبوالي سره سره که یې سجده ونه کړه نو په لمانځه کي یي نقصان راغی او اعاده یي واجبه ده. ([1])

په نفلو اوسنتو کي سجده سهوه سته اوکه نه؟ سوال: (۲۱۱۵) په نفلو سنتو او داخترونو په لمونځونوکي سجده سهوه سته اوکه نه؟

جواب: په درمختارکي دي: والسهو في صلوة العيدين والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتأخرين عدمه في الأوليين الخ ددي حاصل دا دی چي داختر او جمعي په لمانځه کي او په فرضو اونفلو کي دواجب په پرېښودلو سره سجده سهوه واجبه ده لیکن متاخرینو ویلی دي چي په اختر او جمعه کي که چیري خلګ ډیر وي نو سجده سهوه دي نه کوي دفتني ددفع کولو په هیله. فقط

دشافعي لپاره دسهار په لمانځه کي رعایت څنګه دی؟ سوال: (۲۱۱۶) که حنفي امام دشافعي مقتدیانو دخیال ساتلو لپاره دسهار دلمانځه په دویم رکعت کي دومره ایسارتیا وکړي چي شافعیان دقنوت څخه فارغ سي نو دا څنګه ده دهغه لمونځ به وسي اوکه نه په داسي امام پسي لمونځ کول ښایي اوکه نه که لمونځ ورپسي وسي نو مکروه به وي اوکه نه؟ او په کمو کارونو کي حنفي امام ته دشافعي مقتدیانو رعایت کول جائز دي، دشافعي مقتدي په خاطر حنفي امام ته دسلام څخه مخکي سجده سهوه کول جواز لري اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي: لكن يندب للخروج من الخلاف لا سيما للإمام لكن بشرط عدم لزوم ارتكاب مكروه مذهبه الخ ([2]) یعني امام ته دبل مذهب لرونکو مقتدیانو مثلا

([1]) يجب له بعد سلام واحد سجدتان (الى قوله) بترك واجب سهو وإن تكرر كركوع قبل قراءة (إلى أن قال) والجهر فيما يخافت فيه وعكسه بقدر ما يجوز به الصلوة الخ (تنرير محضا سجود السهو ج۱ ص۷۷۲، ط.س. ج۲ ص۷۸). ظفير

([2]) الدر المختار على هامش رد المحتار كتاب الطهارة مطلب في ندب مراعاة الخلاف الخ ج۱ص۱۳۲، ط.س. ج۱ ص۱۴۷. ظفير

شافعيانو رعايت کول مستحب دي ليکن په دي شرط چي دخپل مذهب دمکروه ارتکاب نه لازميږي او شامي فرمايلي دي چي مکروه تنزيهي هم په دي کي شامل دی يعني که چيري دخپل مذهب په رڼا کي مکروه تنزيهي لازميږي نو بيا دي هم مثلاً دشافعي مذهبه مقتديانو رعايت نه کوي نو ددي روايت په بناء دي حنفي امام په دويم رکعت کي له رکوع څخه دراپورته کيدلو وروسته دومره توقف نه کوي چي مقتديان دعاء قنوت پکښي ووايي ځکه چي دا توقف مکروه دی او په شامي کي دي: نعم ذکر نحوه ابن عبدالرزاق في شرحه على هذه الشروح كإطالة وقوفه بعد الرفع من الركوع الخ (١) دا مثال يي ورکړی دی چي درکوع وروسته دتوقف داوږدوالي پريښودل واجب دي نو په دي توقف سره ترك دواجب راځي چي هغه مکروه تحريمي دی ځکه به نو په داسي امام پسي لمونځ کول مکروه وي همدا ډول دسلام څخه مخکي سجده کول حنفي امام ته دمقتديانو درعايت لپاره نه ښايي ځکه دا هم مکروه تنزيهي ده کما في الشامي أنه لو سجد قبل السلام كره تنزيها (٢) الخ ج١ ص٤٩٥. باب سجود السهو. فقط

په څلور رکعتي لمونځ کي امام په دري رکعتو باندي سلام وګرځوي او په مقتديانو کي چي يادونه واوريده نو پورته سو ددې څه حکم دی؟ سوال: (١٢١٧) امام په څلور رکعتيز لمانځه کي چي کله دري رکعته وکړل نو سلام يي وګرځوی اوس امام قبلي ته مخامخ ناست دی او په مقتديانو کي خبری اتري سوي چي څلور رکعته وسو او... ، په دي اوريدو سره امام الله اکبر ووايه او ودريدی او څلور رکعته يي پوره کړه سجده سهوه يي وکړه، او سلام يي وګرځوی ايا دامام او مقتديانو لمونځ وسو؟

جواب: که چيري امام څه خبره نه وي کړي نو دهغه لمونځ وسو او په مقتديانوکي چي چا خبري نه وي کړي دهغوی لمونځ هم وسو او کمو مقتديانو چي خبره کړيده دهغو لمونځ ونه سو هغوی دي خپل لمونځ راوګرځوي. (٣) فقط

په شپږم رکعت کي چي څوک شريک سو دهغه لمونځ ونه سو: سوال: (٢١١٨) امام پنځم رکعت ته پورته سو او شپږ رکعته يي پوره کړل سجـده يي وکړه او سلام يي وګرځوی په

(١) رد المحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة قبيل مطلب مهم في تحقيق متابعة الإمام ج١ ص٤٣٨، ط.س. ج١ ص٤٧٠. ظفير

(٢) رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩١، ط.س. ج٢ ص٧٨. ظفير

(٣) سلم مصل الظهر مثلا على رأس الركعتين توهما إتمامها أتمها اربعا وسجد للسهو لأن السلام ساهيا لا يبطل لأنه دعائه من وجه (درمختار) قوله لأنه دعائه من وجه اى فلذا خالف الكلام حيث كان مبطلا ولوساهيا (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٤، ط.س. ج٢ ص٩١). ظفير

پنځم رکعت کي یوبل سړی ورسره شریك سو نو دهغه لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

جواب: که چیري امام په څلورم رکعت کي دتشهد په اندازه دناستي وروسته سهوا ولاړ سو او دپنځم رکعت سجده یي هم وکړه نو شپږم رکعت دي ورسره یو ځای کړي او سجده سهوه دي وکړي دده فرض پوره سوه که چیري یو سړی په پنځم رکعت یا شپږم رکعت کي ددغه امام مقتدی سو نو دمقتدي لمونځ نه کیږي ځکه چي دامام دغه دوه رکعته نفل دي. هکذا في الشامي. (١)

په جمعه او اخترونو کي سهوه سته او که نه؟ **سوال**: (٢١١٩) په جمعه اواخترونو کي سهوه سته اوکه نه؟

جواب: دمتأخرینو لخوا غوره کړل سوی قول دا دی چي په جمعه او اخترونو کي کله چي ګڼه ګوڼه ډیره وي نو سجده سهوه دي نه کوي. کذا في الدرالمختار والشامی. (٢)

دسهار په فرضو کي یې په هیره دالتحیات پرځای الحمد ولوستله چي ور په زړه سوه نو التحیات یي ولوستل لمونځ یي کیږي اوکه نه؟ **سوال**: (٢١٢٠) دسهار په فرضوکي امام دالتحیات پرځای سهوا الحمد شریف یا بل قرآني ایات ولوستی بیا ور په زړه سوه نو التحیات یي ولوستل او سجده سهوه یي وکړه په دي صورت کي سجده سهوه واجبه ده؟ او لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: ددي کبله چي دواجبو ځنډ وسو نو سجده سهوه واجبه ده او دسجده سهوي په کولو سره لمونځ کیږي.

امام په هیره سره په لومړی قعده کي دواړو لورو ته سلام وګرځوی نو پاته لمونځ کولی سي اوکه نه؟ **سوال**: (٢١٢١) امام په لومړی قعده کي دواړو لورو ته په هیره سره سلام وګرځوی نو اوس پاته لمونځ کولای سي اوکه نه؟ او ددواړو سلامو په ګرځولو سره لمونځ کیږي اوکه نه؟

جواب: سهوا دواړو لورو ته په سلام ګرځولو سره لمونځ نه فاسدیږي (١) پاته رکعتونه دي وکړي او په پای کي دي سجده سهوه وکړي. لمونځ به صحیح سي.

---

(١) لو إقتدى به مفترض في قيام الخامسة بعد القعود قدر التشهد لم يصح ولو عاد إلى القعدة لأنه لما قام إلى الخامسة فقد شرع في النفل فكان إقتداء المفترض بالمتنفل (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠١، ط.س. ج٢ ص٨٨). ظفير

(٢) والسهو في صلوة العيدين والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتأخرين عدمه في الأوليين لدفع الفتنة (درمختار) وفي جمعة حاشية إلى السعود عن العزمية أنه ليس المراد عدم جوازه بل الأولى تركه لئلا يقع الناس في فتنة (ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص....، ط.س. ج٢ ص٩٢). ظفير

که په لومړی قعده کي دتشهد څخه وروسته درود ووايي يا سلام وګرځوي نو سجده سهو وربانـدي سته اوکه نه؟ **سوال**: (٢١٢٢) په څلور رکعتي لمانځه کي يي ددويم رکعت دتشهد څخه وروسته څو الفاظ ددرود شريف وويل نو په هغه باندي سجده سهوه سته اوکه نه؟ اوکه دواړو لوروته سلام وګرځوي نو دهغه لپاره څه حکم دی؟

جواب: سجده سهوه وربانـدي واجبه ده که دواړو لورو ته سلام وګرځوي نوهم سجده سهوه ورباندي لازمه ده. ([٢])

که سجده پرلازمه سي او دواړو لورو ته دسلام ګرځولو وروسته ورته یاده سي نوڅه وکړي؟

سوال: (٢١٢٣) که په يوه لمانځه کي سجده سهوه واجبه سي او دواړو لورو ته دسلام ګرځولو وروسته ورته ياده سي نو دهغه لپاره څه حکم دی؟

جواب: سجده سهوه دي وکړي. ([٣])

که تر دريو رکعتو په کموکي ورڅخه هيره وسي نوبل سورت ورسره يوځای کړي اوکه نه؟

سوال: (٢١٢۴) که چيري لمونځ کوونکي دري ايته نه وه لوستلي چي قراءت ورڅخه هير سو نو بل سورت يي ورسره يو ځای کړی په دي کي څه ستونزه سته؟ که يي ورسره يو ځای کړي نو سجده سهوه وکړي اوکه نه؟

جواب: سجده سهوه نه واجبيږي. ([۴])

که دسهار په سنتوکي په هيره سره دريم رکعت ته پورته سي نو څه وکړي؟ **سوال**: (٢١٢٥) که يو سړی دسهار په سنتو کي په لومړي رکعت کي سورت فلق او په دويم رکعت کي سورة الناس ووايي او ددويم رکعت څخه وروسته په هيره دريم رکعت ته پورته سي نوڅه وکړي؟

جواب: دقيام په مهال چي کله ورپه زړه سي نو کښيدني او دتشهد لوستلو وروسته دي سجده سهوه وکړي. ([٥])

([١]) إلا السلام ساهيا للتحليل اى للخروج من الصلوة قبل إتمامها على ظن إكمالها فلا يفسد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيها ج١ ص٥٧٥). ظفير

([٢]) وتأخير قيام إلى الثالثة بزيادة على التشهد بقدر ركن وقيل بحرف وفي الزيلعي الأصح وجوبه باللهم صل على محمد (ايضا باب سجود السهو ج١ ص٢٩۴، ط.س. ج٢ ص٨١). ظفير

([٣]) ولو نسي السهو او سجدة صلوتية او تلاوية يلزمه ذلك مادام في المسجد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠۴، ط.س. ج٢ ص٩١). ظفير

([۴]) يكره أن يفتح من ساعة كما يكره للإمام أن يلجئه إليه بل ينتقل إلى آية أخرى لا يلزم من وصلها ما يفسد الصلوة او إلى سورة اخرى (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٥٨٢، ط.س. ج١ ص٦٢٢). ظ

([٥]) سها عن القعود الأول من الفرض عمليا أما النفل فيعود ما لم يقيد بالسجدة ثم تذكره عاد إليه وتشهد ولا =

يوازي سورت فاتحه يا يوازي سورت يي ولوستى او ركوع يي وكړه ددې څه حكم دې؟ سوال: (٢١٢٦) كه چيري يوسړى دسهار په لمانځه كي يوازي دسورت فاتحي دلوستلو وروسته ركوع ته ولاړى يا يي الحمد پرېښووله يوازي سورت يي ووايه او ركوع ته ولاړى نو څه حكم لري؟

جواب: په دواړو صورتونو كي سجده سهوه واجبه ده. او لمونځ وسو. ([1])

چي سجده سهوه واجبه سي او ويې نه كړي نو څه حكم لري؟ سوال: (٢١٢٧) چي سجده لازمه سي او ويې نه كړي نو څه حكم لري؟

جواب: كه سجده سهوه واجبه سوه او ويې نه كړه نو دلمانځه اعاده واجبه ده. ([2])

دپاته سوي شي دادا كولو لپاره دركوع څخه قيام ته ستنيدل څنګه دي؟ سوال: (٢١٢٨) دركوع څخه دقيام لوري ته ستنيدل ددي لپاره چي يو پاته سوى سنت يا واجب ادا كړي عامه خبره ده، چي په واقع كي ددي دواړو څخه يو شى يا پاته سوى وي يا نه وي او دقيام لورته بيرته ستنيدل سهوا يا قصدا په دي ټولو صورتونو كي دركوع څخه دقيام لورته دتللو څه حكم دى؟

جواب: په دي ټولو صورتونو كي سجده سهوه واجبه ده دلمانځه اعاده ([3]) لازمه نه ده، او په اصل كي په دي حكم كي داختر او جمعي او نور لمونځونه ټول برابر دي ليكن په اخترونو اوجمعه كي متاخرينو دسجدي پريښودل اولى بللي دي دخلكو دګڼي ګوڼي او ازدحام له امله.

په دريم ركعت كي كښينستي خو سمدستي ولاړ سو ددې څه حكم دي؟ سوال: (٢١٢٩) امام په دريم ركعت كي سهوا كښينستى دمقتدي د: الحمد لله په ويلو سره سمدستي ولاړ سو او په ناسته كي يي دشك له امله دالحمد لله په انتظار كي څه نه وه لوستي وروسته

= سهو عليه في الأصح (درمختار) لا سهو عليه في الأصح يعني إذا عاد قبل أن يستتم قائما الخ واما إذا عاد وهو إلى القيام أقرب فعليه سجودالسهو (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٢، ط.س. ج٢ ص٨٣). ظفير

([1]) ولها واجبات لا تفسد بتركها وتعاد وجوبا في العمد والسهو الخ وهى الخ قراءة فاتحة الكتاب فيسجد للسهو بترك اكثرها لا اقلها لكن في المجتبى يسجد بترك اية منها وهو أولى الخ وضم أقصر سورة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٢٤، ط.س. ج١ ص٤٥٦). ظفير

([2]) ولها واجبات لا تفسد بتركها وتعاد وجوبا (الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب واجبات الصلوة ج١ ص ٤٢٤، ط.س. ج١ ص٤٥٦). ظفير

([3]) ولو نسيه اى القنوت ثم تذكره في الركوع لا يقنت فيه لفوائت محله ولا يعود إلى القيام في الأصح لأن فيه رفض الفرض للواجب فان عاد إليه وقنت ولم يعد الركوع لم تفسد صلوته الخ وسجد للسهو (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٢، ط.س. ج٢ ص٩). ظفير

يي سجده سهوه ونه كړه لمونځ وسو اوكه نه؟

جواب: كه چيري لږ ناسته سوي وي او تر ډيره وخته نه وي كښېنستلى نو سجده سهوه واجبه نه وه او لمونځ يي وسو. (١)

داخري قعدي څخه وروسته په هيره ودريدى نو څه وكړي؟ سوال: (٢١٣٠) په لمانځه كي داخري قعدي څخه وروسته لمونځ كوونكى ودريدى او كله چي ورپه زړه سو نو كښېنستى نو اوس هغه دسجده سهوي لپاره دالتحيات لوستلو وروسته يوه لوري ته سلام وګرځوي اوكه التحيات نه لولي؟

جواب: دوباره دالتحيات دلوستلو اړتيا نسته ځكه چي قاعده او تشهد مخكي سوي دي په كښېنستو سره دي سلام وګرځوي او سجده سهوه دي وكړي بيا دي دالتحيات او نورو څخه وروسته دختميدو سلام وګرځوي په شامي كي دي: قوله عاد وسلم الخ وفيه إشارة إلى أنه لايعيد التشهد وبه صرح في البحر. (٢)

دثنا لوستلو وروسته چي يې ركوع وكړه بيا ورپه زړه سوه چي قرائت پاته دي: سوال: (٢١٣١) [١] زيد دنيت تړلو وروسته سبحانك اللّٰهم ولوستله او ركوع يي وكړه دتسبيح لوستلو وروسته ورته ياد سوه چي قرائت يي نه دى لوستلى نو اوس هغه ته څه كول ښايي؟

ركوع ورڅخه هيره سوه: سوال: (٢١٣٢) [٢] لمونځ كوونكي دنيت تړلو څخه وروسته قرائت ولوستى خو ركوع يي ونه كړه بلكي سجدي ته ولاړى ددواړو سجدو وروسته ورته ياد سوه چي ركوع مي نه ده كړي نو هغه ته څه كول په كار دي؟

يوازي يوه سجده يې وكړه: سوال: (٢١٣٣) [٣] لمونځ كوونكي په لومړي ركعت كي يوازي يوه سجده وكړه په دويم ركعت كي ور په ياد سوه چي ما يوه سجده كړيده اوس هغه ته څه كول ښايي؟

امام په هيره سره پنځم ركعت ته ولاړ سو نو ايا مقتدي دهغه اتباع وكړي؟ سوال: (٢١٣٤) [۴] امام څلور واړه ركعتونه وكړل او په اخري قعده كي يي يوائي التحيات ولوستل او سهوا ودريدى مقتدي ورته فتحه ورنه كړه او نه غواړي چي فتح وركړي او مقتديان پوهيږي چي پنځم ركعت دى اوس مقتديان دپوره التحيات لوستلو څخه وروسته سلام

---

(١) ويكبر للنهوض على صدور قدميه بلا إعتماد وقعود الراحة ولو فعل لا بأس به (درمختار) ولا ينافي هذا ما قدمه الشارح في الواجبات حيث ذكر منها ترك قعود قبل ثانية ورابعة لأن ذلك محمول على القعود الطويل ولذا قيدت الجلسة هنا خفيفة (رد المحتار فصل في بيان تأليف الصلوة، ط.س. ج١ ص۴٩٧). ظفير

(٢) رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٠. ظفير

وګرځوي اوكه دامام اتباع وكړي؟
زيد په دوو ركعتونو كي راغلی او دامام سره يوځای سو امام داخري قعدي وروسته سهوا ودريدی او مقتدي فتحه وركړه، ليكن امام فتحه وانه خيسته اوس زيد ته دامام تقليد او اقتداءكول په كاردي اوكه نه؟

فتح وركول: **سوال**: (**٢١٣٥**) [**٥**] امام په دري اياتونو كي دننه متشابه سو اوس مقتديان ورته فتحه وركړي كه نه؟

ددري اياتونو دلوستلو وروسته فتح: **سوال**: (٢١٣٦) [٦] امام دالحمد څخه وروسته دري اياتونه صحيح ولوستل دهغو وروسته په نورو اياتونوكي ورته متشابه پيدا سوه اوس مقتديان فتح وركړي اوكه نه؟

ټول ركعتونه يي ډک وكړل ددي څه حكم دی؟ **سوال**: (٢١٣٧) [٧] امام دريم ركعته يا څلورم ركعته ډك وكړل اوس هغه ته سجده سهوه كول ښايي اوكه نه؟

په نفلو اوسنتو كي قرائت: **سوال**: (**٢١٣٨**) [٨] دټولو نوافلو، سنتو او فرضو په لومړنيو دوو ركعتونوكي سورت فاتحه لوستل واجب دي، ايا په اخري دوو ركعتونوكي هم واجب دي اوكه نه؟ كه چا په اخري دوو ركعتوكي فاتحه ونه لوستله نو لمونځ به يي صحيح وي اوكه نه؟

جواب: [١] لوستل په كار دي او په پای كي دي سجده سهوه وكړي. (المتروك ثلاثة أنواع فرض وسنة وواجب ففي الأول إن أمكنه التدارك بالقضاء يقضي (إلى قوله) ولا يجب السجود إلا بترك واجب او تأخيره او تأخير ركن الخ (عالمګيري كشوري ج١ ص١٢۴. ظفير)

[٢] دسجدي څخه دی ولاړ سي او ركوع دي وكړي او په پای كي دي سجده سهوه وكړي: ولا يجب السجود إلا بترك واجب او تأخير ركن اوتقديمه أوتكراره (عالمګيري كشوري ج١ ص١٢۴. ظفير)

[٣] هغه سجده دي اوس وكړي او دركعت كولو څخه وروسته دي په پای كي سجده سهوه وكړي. [1]

[۴] په دواړه كولوكي اختيار لري ليكن كم سړی چي داول څخه شريك نه دی يعني مسبوق دی هغه كه يي اتباع وكړي نو فرض به يي باطل سي. [2]

---

[1] فلو ترك سجدة من ركعة فتذكرها في اخر الصلوة سجدها وسجد للسهو لترك الترتيب فيه وليس عليه إعادة ما قبلها. (عالمګيري كشوري ج١ ص١١٥). ظفير

[2] ومن جملتها أنه لو قام إمامه إلى الخامسة فتابعه فإن كان الإمام قعد على الرابعة فسدت صلوة المسبوق =

[**۵**] نه! (لو قام إمامه إلى الخامسة فتابعه فان كان الإمام قعد على الرابعة فسدت صلوة المسبوق الخ (غنية المستملي ص۴۴۱. ظفير)

[**۶**] ورته اختيار دی ليکن که چيري امام دبل ځای څخه قرائت شروع نه کړي نو بيا دمقتديانو لپاره اړينه ده چي فتح ورکړي. ([1])

[۷] ورته اختيار دی ليکن که داسي غلط لوستل وکړي چي دلمانځه فساد پيښوي نو ضروري ده چي صحيح وروښيي، که نه وي دټولو لمونځ به فاسد سي. ([2]) (ألا يرى إلي أنه عليه السلام قال لأبی هلاً فَتَحْتَ عَلَيَّ، غنية المستملي ص۴۱۷، ظفير)

[۸] نه! (و لو قرأ في الأخريين الفاتحة والسورة لا يلزمه السهو وهو الأصح عالمګيري كشوري ج۱ ص**۱۲۵**، ظفير)

[۹] صحيح دی. (ويجب قراءة الفاتحة وضم السورة أو ما يقوم مقامها من ثلاث ايات قصار او اية طويلة في الأولیين وفي جميع ركعات النفل والوتر هكذا في البحر الرائق (عالمګيري كشوري ج۱ ص۲۹، ظفير)

په اخري قعده کي ورته شک پيدا سو چي لومړی قعده مي نه ده کړي نوڅه وکړي؟ سوال: (۲۱۳۹) دلمانځه په اخري قعده کي ورته شبهه پيدا سوه چي لومړی قعده مي کړيده اوکه نه؟ نو سجده سهوه وکړي اوکه نه؟

جواب: ودي کړي. فقط والله تعالى أعلم.

سجده سهو دي دسلام څخه وروسته وکړي: **سوال**: (۲۱۴۰) سجده سهوه دسلام څخه مخکي کول ښايي اوکه وروسته او په امام اومنفرد کي څه توپير دی؟

جواب: غوره او راجح صورت دادی چي يوازي رسته لورته دسلام ګرځولو وروسته سجده سهوه وکړي، اوپه دي کي دامام او منفرد په مينځ کي هيڅ توپير نه څرګنديږي: في الدر المختار يجب له بعد سلام واحد عن يمينه (إلى أن قال) لأنه المعهود وبه يحصل التحلل وهو الأصح ([3]) الخ. فقط

دلومړی تشهد دپرېښوولو حکم: **سوال**: (۲۱۴۱) دلومړي تشهد په پاته کيدلو سره لمونځ کيږي اوکه نه؟ که يي سجده سهوه په هيره سره نه وي کړي؟

جواب: دلمانځه اعاده واجبه ده. ([4]) فقط

= لإقتدائه في موضع الأنفراد (غنية المستملي ص۴۴۱). ظفير

([1]) والفتح إن لم يقرأ قدر الواجب لشدة تاكد الواجب وقربه من الفرائض (غنية المستملي ص۴۱۸). ظفير

([2]) وينبغي للمقتدي أن لا يعجل بالفتح وللإمام أن لا يلجئهم إليه بل يركع (غنية المستملي ص۴۱۷). ظفير

([3]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۱۰۱، ط.س. ج۲ ص۷۸. ظفير =

دسورت شاته او مخته لوستلو حکم: **سوال**: (۲۱۴۲) [۱] په لمانځه کي دسورت شاته او مخته لوستلو له امله سجده سهوه لازميږي اوکه نه؟

که شک ورته پیدا وي نوڅه وکړي؟ **سوال**: (۲۱۴۳) [۲] امام ته شبهه پیدا سوه چي ما یوه سجده کړي اوکه دوې؟ په دي صورت کي سجده سهوه وکړي اوکه بیا لمونځ راوګرځوي؟

دضرورت څخه بغیر سجده سهو: **سوال**: (۲۱۴۴) [۳] دضرورت پرته دسجده سهوي ترکولو وروسته لمونځ راوګرځوي اوکه نه؟

جواب: [۱] سجده لازمه نه ده، خو قصدا داسي کول مکروه دي، ویکره الفصل بسورة قصیرة وأن یقرأ منکوسا (درمختار). (۱)

[۲] که چیري غالب ګمان یوه لوري ته هم نه وي نو یوه سجده دي بله وکړي اوسجده سهو دي وکړي: وجب علیه سجود السهو في جمیع صور الشك سواء عمل بالتحري او بنی علی الأقل لکن في السراج أنه یسجد للسهو في أخذ الأقل مطلقا وفي غلبة الظن إن تفکر قدر رکن الخ درمختار. (۲)

دسورتونو له ترتیب څخه خلاف قرائت ویل: **سوال**: (۲۱۴۵) دسورنو دترتیب څخه خلاف په قرائت لوستلو سره سجده سهوه لازمیږي اوکه نه؟

جواب: سجده سهوه واجبه نه ده، قوله بترك واجب ای من واجبات الصلوة لا کل واجب إذ لو ترك ترتیب السور لا یلزمه شئ الخ شامي. (۳) فقط

په لمانځه کي دبې ترتیله قرائت حکم: **سوال**: (۲۱۴۶) یوه سړي په جهري لمانځه کي قرائت بې ترتیله ولوستی دهغه لمونځ کیږي اوکه نه؟ سجده سهوه یې هم ونه کړه؟

جواب: که داسي غلطي نه وي سوي چي لمونځ فاسدوي نو لمونځ یې وسو او دسجده سهوي اړتیا نسته. (۴) فقط

امام په سبحان الله ویلوسره پوهول؟ **سوال**: (۲۱۴۷) [۱] که چیري دامام څخه سهوا اخیري قعده پاته سوه او امام قیام ته نژدي ورسیدی نو مقتدي لره د (سبحان الله) په ویلو سره

---

(۴) ومنها قراءة التشهد فإنها واجبة في القعدتین الأولی والأخیرة وإلی هذا أشار صاحب الهدایة في باب سجود السهو فاوجب السجود بترك التشهد في القعدة الأولی (غنیة المستملي ص۲۹۰). ظفیر

(۱) الدر المختار فصل ویجهر الإمام ج۱ ص۴۸۱، ط.س. ج۱ ص۵۴۶. ظفیر

(۲) الدر المختار فصل ویجهر الأمام ج۱ ص۷۰۳، ط.س. ج۲ ص۸۰. ظفیر

(۳) ردالمحتار ابتداء باب سجود السهو. ظفیر

(۴) ومنها القراءة بالألحان إن غیر المعنی وإلا لا، إلا في حرف مد ولین إذا فحش وإلا لا، (الدر المختار ج۱ ص۹۰). ظفیر

دریدل غوره دي اوكه په ناسته (سبحان الله) ووايي غوره څنګه دي؟

اخري قعده ورڅخه هيره سوه ولاړ سو بيا ورته ياد سوه نوڅه وكړي؟ سوال: (٢١٤٨) [٢] كه چيرى دڅا څخه اخيري قعده هيره سوه او پاڅيدى نو دغه سړى سمدستي دياديدلو سره قعده وكړي اوكه دالحمد په اندازه قيام وكړي؟

جواب: [١] دناستي په حالت كي ويل غوره معلوميږي څه جزئيه مي ترنظر تيره نه سوه او صحيح په دواړه ډوله دى.

[٢] په سمدستي ياديدلو سره قعده كول ښايي يعني ترڅو پوري چي يى سجده نه وي كړي كما هو عامة المعتبرات ولو سها عن القعود الأخير الخ عاد إلخ ما لم يقيد بالسجدة (١) الخ. فقط

په لمانځه كي بيده كيدل: سوال: (٢١٤٩) په لمانځه كي يو سړى په داسي ډول بيده سو چي لمونځ نه ورسره فاسديږي او په دي وخت كي دفرضو په ادا كولو كي ددريو تسبيحاتو په اندازه ځنډ راغى نو سجده سهوه به لازمه سي اوكه نه؟

جواب: قال في الدرالمختار فان اتى بها او بأحدها بأن قام او ركع او سجد اوقعد الأخير نائما يعتد بما اتى به بل يعيده (٢) وهل يسجد لتأخير الركن الظاهر نعم. دشامي دپورتنى عبارت څخه معلومه سوه چي دسهوي سجده لازميدل په كار دي. (٣) فقط

الباب الثانى عشر في سجود التلاوة

دوولسم باب دسجده تلاوت په بيان

د تلاوت سجده كله اوپه كم ځاى كي واجبيږي

كه چيري دسجدي دايت دلوستلو وروسته دهغه معنى هم ووايي نو څو سجدي وكړي؟ سوال: (٢١٥٠) يوه سړي دسجدي دايت لوستلو وروسته دهغه معنى هم وويله نو دا سړى يوه سجده وكړي اوكه دوې؟

جواب: يوه سجده وربانديي لازمه ده. (٤)

دتلاوت په سجده كي دځنډولو اختيار سته اوكه نه؟ سوال: (٢١٥١) يوه واعظ دتقرير په مهال دسجدي ايت په لوړ اواز ولوستى ليكن نه يي په خپله سجده وكړه اونه يي

---

(١) الدر المختار باب سجود السهو ج١ ص١٠٢، ط.س. ج٢ ص٨٥. ظفير

(٢) الدر المختار باب صفة الصلوة ج١ ص٧١، ط.س. ج١ ص٤٥٥. ظفير

(٣) رد المحتار باب صفة الصلوة قبيل مطلب واجبات الصلوة ط.س. ج١ ص٤٥٥. ظفير

(٤) يجب بسبب تلاوة آية اى اكثرها مع حرف السجدة (درمختار) قوله بسبب تلاوتها إحترز عما لو كتبها او تهجاها فلا سجود عليه (رد المحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٥، ط.س. ج٢ ص١٠٣). ظفير

اوريدونكو ته دسجدي كولو وويل چي كله اعتراض ورباندي وسو نو عذري ووايه چي په عامه مجمع كي دسجدي ايت په زوره ويل بد كارنه دی او دانسان سره خطا او هيره لازمه ده ځكه چي آدم علی نبينا وعليه السلام په هيره سره غنم خولی وه او همدغه ډول دحضرت موسی علی نبينا وعليه الصلوة والسلام څخه ماهی (كب) هير سوی وو آيا دعذر په مقام كي واعظ ته دپيغمبرانو خطا او نسيان دشهادت په توګه وړاندي كول صحيح دي اوكه نه؟ اوايا دهغه عذر شرعا معقول دي؟

جواب: په شامي كي دي: قوله يجب ای وجوبا موسّعًا في غير صلوة ([1]) الخ ددي څخه معلومه سوه چي دتلاوت دسجدي وجوب په پراخي سره دی سمدستي واجبه نه ده نو پرواعظ باندي اعتراض كول بي ځايه وو اوكله چي اعتراض وكول سو نو نوموړي واعظ هم عذر ويلای سوای چي سجده بالفور واجبه نه ده په تېره بيا دوعظ په مجلس كي، او دانبياء عليهم الصلوة والسلام خطا او نسيان په استشهاد كي وړاندي كول هم څه ممنوعيت او ستونزه نه لري اوپه حديث شريف كي هم همدغه ډول مضمون وارد سوی دی: فنسی آدم الخ فنسيت ذريته ([2]) او كما قال عليه الصلوة والسلام. فقط

په ركوع يا دلمانځه په سجده كي په نيت كولو سره سجده ادا كيږي اوكه نه؟ سوال:

(**٢١٥٢**) كه چيري امام يا منفرد په فرض، تهجد، تراويحو او يا بل لمانځه كي دسورت اعراف يا سورت نجم يا سورت علق يا بل يوه داسي ركوع چي پكښي دسجدي ايات وو ولوستله او په ځای دسجده تلاوت يي په ركوع كي دتلاوت دسجدي نيت وكړی نو دامام او مقتديانو سجده تلاوت به ادا سي اوكه نه؟ اوهمدا ډول دسجدي دايات څخه وروسته امام څلور اياتونه ولوستل او ركوع يي وكړه او دتلاوت دسجدي نيت يي هم وكړی نو داهم صحيح دي اوكه نه؟ سورت بني اسرائيل دسجدي څخه وروسته په نورو دوو اياتونو، او سورت انشقاق دسجدي څخه وروسته په نوور څلورو اياتو باندي ختميږي نو دذكر سوو سورتونو دختميدو څخه وروسته په ركوع كي دسجدي په نيت كولو سره به سجده ادا سي اوكه نه؟

جواب: كه يي چيري دسجدي دايت دلوستلو څخه وروسته سمدستي او يا ددوو درو اياتو دلوستلو وروسته ركوع وكړه اوپه هغي كي يي دتلاوت دسجدي نيت وكړی نو دتلاوت سجده به ادا سي، ([3]) او مقتديانو لره هم نيت كول ضروري دي دنيت كولو پرته

([1]) رد المحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٥، ط.س. ج٢ ص١٠٣. ظفير

([2]) مشكوة باب الإيمان باب القدر فصل ثانی ص٢٣. ظفير

([3]) تؤدى بركوع صلوة إذا كان الركوع على الفور من قراءة آية او آيتين وكذا الثلاث على الظاهر كما في البحر =

دهغوی دذمي ځخه دتلاوت سجده نه ساقطيږي ([1]) او ددرو زياتو اياتونو په لوستلو سره فوريت له منځه ځي. ([2]) فقط

دسورت حج اخري سجده او دهغي حکم: **سوال**: (٢١٥٣) دسورت حج اخري سجده عند الشافعي واجبه ده داقتداء په مهال حنفي المذهب هم دشافعي المذهب په اتباع کي دا سجده ادا کړي اوکه نه؟ اوکله چي امام حنفي وي او مقتديان شافعيان وي نو دمقتديانو داسجده به څنګه ادا کيږي؟

جواب: په شامي کي دي چي دشافعي المذهب امام دمتابعت په وجه دي حنفي المذهب هم دسورت حج اخري سجده وکړي: وظاهره أنه يتبعه فيها لو كان في الصلوة الخ شامي ([3]) او کله چي امام حنفي وي نو دا سجده دي نه کوي او دمقتدي دذمي ځخه هم داحنافو دمذهب مطابق داسجده ساقطه ده، ليکن که چيري دشوافعو په وړاندي دلمانځه سجده ترلمانځه وروسته هم جائزه وي نو هغوی يي کولای سي دحنفيانو په وړاندي چي کمه سجده په لمانځه کي واجبه سي او هغه په لمانځه کي ادا نه کړل سي نو بيا هغه نه ادا کيږي. ([4]) فقط

که په لمانځه کي ورځخه دتلاوت سجده هيره سي: **سوال**: (٢١٥٤) که چيري په لمانځه کي ورځخه دتلاوت سجده هيره سي او په بل رکعت کي ورته ياده سي نو څنګه به يي ادا کوي؟

جواب: که چيري دتلاوت سجده په هغه رکعت کي ورځخه هيره سي په کم کي چي ايت لوستلی وو نو په دويم، دريم رکعت کي چي کله ورته ياده سي ودي کړي ([5]) او بيا دي

= إن نواه اى كون الركوع لسجود التلاوة على الراجح (درمختار) وفي الإمداد الإحتياط قول شيخ الإسلام خواهر زاده بإنقطاع الفور بالثلاث وقال شمس الأئمة الحلواني لا ينقطع ما لم يقرأ اكثر من ثلاث وقال الكمال ابن الهمام قول الحلواني هو الرواية الخ (رد المحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢٣، ط.س. ج٢ ص١١١). ظ

([1]) ولو نواها في ركوعه ولم ينوها المؤتم لم تجزه (درمختار) اى لم تجز نية الأمام المؤتم ولا تندرج في سجوده وإن نواها المؤتم فيه لأنه لما نواها الإمام في ركوعه تعين لها وفي القهستاني واختلفوا في أن نية الإمام كافية كما في الكافي فلو لم ينو المقتدي لا ينوب على رأي فيسجد بعد سلام الإمام ويعيد القعدة الأخرى كما في المنية (ايضا ج١ ص٧٢۴). ظفير

([2]) لا ينقطع ما لم يقرأ أكثر من ثلاث (ردالمحتار باب سجود التلاوة ، ط.س. ج٢ ص١١١ – ١١٢). ظفير

([3]) ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٧ ، ط.س. ج٢ ص١١١. ظفير

([4]) وهى على التراخى الخ إن لم تكن صلوتية فان كانت صلوتية فعلى الفور لصيرورتها جزء منها ويأثم بتأخيرها ويقضيها مادام في حرمة الصلوة ولو بعد السلام (درمختار) اى ناسيا مادام في المسجد وروى أنه لايسجد بعد السلام ناسيا (رد المحتار باب ايضا ج١ ص٧٢١، ط.س. ج٢ ص١٠٩). ظفير

([5]) المصلي إذا نسى سجدة التلاوة في موضعها ثم ذكرها في الركوع او السجود او في القعود فانه يخير لها =

سجده سهوه وکړي. فقط

په لمانځه کي يي دتلاوت دسجدي ايات ولوستي نوڅه کول ښايي: **سوال**: (۲۱۵۵) که چيري په لمانځه کي چا دسجدي ايت ولوستی نو سجده څه وخت کول په کار دي؟

جواب: غوره داده چي هغه وخت سجده وکړي چي دسجدي ايات ووايي او فقهاؤ ليکلي دي چي که چيري وروسته ورته ياده سوه او ويي کړه نو سجده سهوه ورباندي لازمه ده. (۱) فقط

دتلاوت دسجدي ځنډول: **سوال**: (۲۱۵۶) دتلاوت دسجدي ځنډول روادي اوکه نه؟

جواب: قال في الدرالمختار: وهی علی التراخی علی المختار (۲) وفي الشامي قوله يجب ای وجوبا موسعا في غير صلوة الخ شامي (۳) فثبت أن الصحيح في سجدة التلاوة هوالوجوب على التراخي وإن كان الأفضل هو الأداء على الفور كذا في الدر المختار ويكره تأخيرها تنزيها الخ (۴). فقط (نو معلومه سوه چي دتلاوت دسجدي ځنډول دلمانځه څخه دباندي روا دي، ظفير)

دسهار دلمانځه څخه وروسته ترلمر ختلو مخکي اودزوال په وخت کي اودمازديګر ترلمانځه وروسته دتلاوت سجده جائز ده اوکه نه؟ **سوال**: (۲۱۵۷) دسهار دلمانځه څخه وروسته تر لمر ختلو مخکي او دزوال په مهال او دمازديګر ترلمانځه وروسته ترلمر لويدو مخکي دتلاوت سجده جائز ده اوکه نه؟

جواب: جائز ده، کما في الدرالمختار: لايكره قضاء فائتة ولو وترا او سجدة تلاوة وصلوة جنازة (۵) الخ.

دټيپ راديو اومرغه څخه دسجدي دايت په اوريدلو سره سجده واجبه نه ده: **سوال**: (۲۱۵۸) دټيپ، راديو يا مرغه څخه که چيري دسجدي ايات واوريدل سي نو دتلاوت سجده به واجبه سي اوکه نه؟

= ساجدا ثم يعود إلى ماكان فيه ويعيده إستحسانا وإن لم يعد جازت صلوته كذا في الظهيرية في فصل السهو (عالمكيري كشوري كتاب الصلوة باب ثالث عشر في سجدة التلاوة ج۱ ص۱۳۲، ط.س. ج۱ ص۱۳۴). ظفير

(۱) ولو تلا في الصلوة سجدها فيها لا خارجها الخ (درمختار) أما لو سهوا وتذكرها ولو بعد السلام قبل أن يفعل منافيا يأتي بها ويسجد للسهو (ردالمحتار باب سجود التلاوة ج۱ ص۷۲۳) واذا كان المختار وجوب سجود السهو لو تذكرها بعد محلها (ايضا ج۱ ص۷۲۲، ط.س. ج۲ ص۱۱۰). ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة ج۱ ص۷۲۱، ط.س. ج۲ ص۱۰۹. ظفير

(۳) ردالمحتار باب سجود التلاوة ج۱ ص۷۱۵، ط.س. ج۲ ص۱۰۳. ظفير

(۴) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة ج۱ ص۷۲۱، ط.س. ج۲ ص۱۰۹. ظفير

(۵) الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصلاة قبيل باب الاذان ج۱ ص۳۴۸، ط.س. ج۱ ص۳۴۵. ظفير

جواب: په درمختارکي دي چي دمارغه او صدی (را تنبیدونکي ږغ آزانګې) څخه دسجدي دایت په اوریدلو سره سجده نه واجبیږي او صدی دږغ حکایت یعني نقل دی چي دغره یا دبل شي څخه دږغ دجواب په ډول اوریدل کیږي نو په دي ډول دټیپ او رادیو څخه په اوریدلو سره هم سجده نه واجبیږي. ([1]) فقط

که یي دتلاوت دنیت څخه پرته هم دسجدي ایت ولوستی نو سجده سهوه به واجبه سي:

سوال: (٢١٥٩) که چیري دتلاوت دنیت څخه پرته دسجدي ایت ولوستل سي نوسجده واجبیږي اوکه نه؟

جواب: سجده به په دي صورت کي واجبه سي. ([2]) فقط

په زړه کي دسجدي دایت په لوستلو سره سجده نه واجبیږي: **سوال**: (٢١٦٠) که چیري څوك دسجدي ایت ته ګوري اوپه زړه زړه کي وایي نو سجده ورباندي واجبه ده اوکه نه؟

جواب: تلاوت کول ضروري دي دتلاوت پرته سجده نه واجبیږي قال في الدرالمختار بسبب تلاوة الخ. ([3]) فقط

که چیري په عامه مجمع کي دواعظ څخه دسجدي ایت واوریدل سي نو ټول دي ځان ځانته سجده وکړي: **سوال**: (٢١٦١) یوه واعظ دسوونو خلګو په غونډه کي دسجدي ایت ولوستی ایا دتلاوت سجده پرټولو باندي ضروري ده که چیري وي نو ایا واعظ ټولو ته په جمع سجده ورکولای سي؟

جواب: دسجدي دایت په اوریدلو او لوستلو سره دتلاوت سجده واجبیږي ځکه نو پرلوستونکي باندي او پر اوریدونکو باندي سجده لازمه سوه ځان ځانته دي ټول سجده وکړي. ([4])

دسجدي دایت ترلوستلو وروسته یي سجده وکړه مخکي ورته یاد نه وه نوڅه وکړي؟ **سوال**: (٢١٦٢) زید حافظ دی هغه لمونځ وکړی او دسجدي ایت په تلاوت کي راغی سمدستي یي دتلاوت سجده وکړه او دسجدي وروسته بیا ودریدی خو هغه ته مخ ته قرآن کریم

([1]) لا تجب بسماعه من الصدی والطیر (درمختار) الصدی هو ما یجیب لك مثل صوتك في الجبال والصحاري ونحوهما (رد المحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢١، ط.س. ج٢ ص١٠٨). ظفیر

([2]) یجب بسبب تلاوة اية ای أکثرها مع حرف السجدة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٥، ط.س. ج٢ ص١٠٣). ظفیر

([3]) قوله بسبب تلاوة احترز عما لو کتبها او تهجاها فلا سجود علیه (ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٥، ط.س. ج٢ ص١٠٣). ظفیر

([4]) وذکر في المجتبی أن الموجب للسجدة أحد ثلاثة: التلاوة والسماع والإئتمام (ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٧، ط.س. ج٢ ص١٠٤). ظفیر

وریاد نه سو هغه دتلاوت دسجدي کولو په مهال رکوع هم ونه کړه، دناپوهی یا هیري له امله ایا زید دتلاوت دسجدي څخه دراپاڅیدلو وروسته رکوع وکړي اوکه څه وکړي؟

جواب: په داسي حالت کي چي په لمانځه کي يي دسجدي ايت ولوستی اومخ ته نور لوستل نه کوي نو په رکوع کي هم دسجدي په نیت کولو سره دتلاوت سجده ادا کیږي او که چیري هغه دتلاوت سجده وکړه نو غوره داده چي ولاړ سي او دیوڅو ایاتونو دلوستلو وروسته بیا رکوع وکړي اوکه ولاړ سي او ودریږي او سمدستي رکوع ته ولاړ سی نوبیه دي کي هم څه ستونزه نسته، لمونځ يي صحيح دی. ([1]) فقط

که دټول قرآن کريم دتلاوت سجدي دتلاوت په پای کي په یوه ځای وکړي نوڅه حکم لري؟

سوال: (٢١٢٣) دقرآن کريم ټولي دتلاوت سجدي دقرآن کريم دختمولو وروسته په یوځل جائز دي اوکه نه؟

جواب: دا هم جايز دي او غوره دادي چي همغه وخت يي وکړي. ([2]) فقط (خو دځنډوالي او رواوالی په هغه وخت کي دی چي په لمانځه کي نه وي، په لمانځه کي به يي سمدستي ادا کوي، ظفير)

دتلاوت سجده واجبه ده: **سوال**: (٢١٢۴) په قرآن کريم کي چي دتلاوت کمي سجدي دي هغه واجبي دي اوکه فرض؟

جواب: دتلاوت سجدي واجبي دي. ([3])

که په ناسته دسجدي ايت ووايي نو سجده په ناسته کولای سي اوکه نه؟ **سوال**: (٢١٢۵) [١] که چیري دتلاوت سجده په ناسته ووايي نو سجده په ناسته وکړي اوکه ودریږي؟

دسهار او مازدیګر څخه وروسته سجده: **سوال**: (٢١٢٦) [٢] دسهار او مازديگر دلمانځه څخه وروسته ايا یوازي سجده کول هم حرام دي؟

بي اودسه دتلاوت سجده هم صحيح نه ده: **سوال**: (٢١٢٧) [٣] که یوه سړي بي اودسه دسجدي ايت ولوستی نو سجده وکړي اوکه نه؟

([1]) وتؤدى بركوع وسجود غير ركوع الصلوة وسجودها في الصلوة وكذا خارجها ينوب عنها الركوع (درمختار قال في الحلية والأصل في أدائها السجود وهو أفضل ولو ركع بها على الفور جاز وإلا لا آه اى وإن فات الفور لا يصح الخ وفي الحلية إذا سجد او ركع لها عليحدة فورا يعود إلى القيام ويستحب أن لا يعقبه بالركوع بل يقرأ ايتين او ثلاث فصاعدا ثم يركع (ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢٣، ط.س. ج٢ ص١١). ظفير

([2]) وهى على التراخي على المختار، ويكره تأخيرها تنزيها الخ إن لم تكن صلوية (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢١، ط.س. ج٢ ص١٠٩). ظفير الدين غفرله

([3]) والسجدة واجبة في هذه المواضع على التالي والسامع الخ (عالمگيري مصري الباب الثالث عشر سجود التلاوة ج١ ص١٢۴، ط.س. ط. ماجدية ج١ ص١٣٢). ظفير

جواب: [١] دفقهي په کتابونو کي يي ليکلي دي چي مستحب دادي چي ودريږي او سجده وکړي او دسجدي کولو وروسته دي بيا ودريږي (په کم حالت کي چي يي قرائت کړی وي. ظفير) ليکن که چيري په ناسته دتلاوت سجده وکړي هم څه ستونزه نسته. (١)
[٢] دتلاوت اونوري سجدي صحيح دي نفل لمونځ کول په دغه وخت کي مکروه دي. (٢)
[٣] وروسته دي اودس وکړي او سجده دي وکړي. (٣) فقط (ځکه چي دتلاوت سجده واجبه ده او داوداسه پرته دتلاوت دسجدي اجازت نسته. ظفير)

په دوباره ايت لوستلو سره به دتلاوت سجده دوباره واجبه سي: سوال: (٢١٦٨) يوه سړي په لمانځه کي سورت سجده ولوستله او سجده يي ادا کړه بيا په څه وجه سره دلمانځه دبيا کولو اړتيا پيښه سوه بيا يي همدغه سورت ولوستی نو دوباره سجده کول په کار دي اوکه مخکنی بسنه کوي؟

جواب: بيا سجده کول ښايي. (٤) فقط

که دسجدي دايت څه برخه ووايي او څه ونه وايي نوڅه حکم دی؟ سوال: (٢١٦٩) دسجدي دايت وروستني الفاظ يي ونه لوستل سجده سهوه ورباندي واجبه سوه اوکه نه؟

جواب: که چيري هغه کلمي يي لوستلي وي په کوموکي چي دسجدي لفظ دی نو دتلاوت سجده ورباندي واجبه سوه. (٥) فقط

دتلاوت هغه سجدي چي ادا کړي يي نه دي دهغو دادا کولو څنګه طريقه ده؟ سوال: (٢١٧٠) يو حافظ درمضان شريف څخه پرته يو ځای هم دتلاوت سجده نه کوي اوس هغه دا سجدي ادا کول غواړي ليکن دکفاري وس يي نه لري، څه کول پکار دي؟

جواب: اندازه دي ولګوي او دتلاوت سجدي دي پوره کړي روزانه چي څومره کيدای سي

(١) والمستحب أنه إذا أراد أن يسجد للتلاوة يقوم ثم يسجد وإذا رفع رأسه من السجود يقوم ثم يقعد كذا في الظهرية (عالمگيري مصري باب سجود التلاوة ج١ ص١٢٧، ط. ماجدية ج١ ص١٣٥). ظفير
(٢) ويكره أن يتنفل بعد الفجر حتى تطلع الشمس وبعد العصر حتى تغرب الخ و لابأس بأن يصلي في هذين الوقتين الفوائت ويسجد للتلاوة ويصلي على الجنازة (هدايه باب المواقيت ج١ ص٨١). ظفير
(٣) و شرائط هذا السجدة شرائط الصلوة إلا التحريمة (عالمگيري مصري باب سجود التلاوة ج١ ص١٢٢، ط. ماجدية ج١ ص١٣٥). ظفير
(٤) وشرط التداخل إتحاد الآية واتحاد المجلس حتى لو إختلف المجلس واتحدت الآية او إتحد المجلس واختلفت الآية لا تتداخل كذا في المحيط (ايضا ج١ ص١٢٥، ط. ماجدية ج١ ص١٣٧). ظفير
(٥) يجب بسبب تلاوة آية اى اكثرها مع حرف السجدة (درمختار) هذا خلاف الصحيح الذي جزم به في نور الإيضاح ففي السراج وهل تجب السجدة بشرط قراءة جميع الآية أم بعضها فيه إختلاف والصحيح أنه إذا قرأ حرف السجدة وقبله كلمة او بعده كلمة وجب السجود وإلا فلا الخ (ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٥، ط.س. ج٢ ص١٠٣). ظفير

دقضا پـه نيت دي سجدي کوي، دهغو کفاره همدا ده چي سجدي دي وکړي. (١) فقط

دتلاوت دسجدي اطلاع: **سوال**: (٢١٧١) امام مخکي دا وويـل چي زه بـه پـه فلانـي رکعت کي دتلاوت سجده کوم خبردار اوسئ دا جواز لري اوکه نه؟

جواب: څه ستونزه نسته پکښي. فقط

دتلاوت سجده فرض ده اوکه واجب اودادا کولو طريقه يې څنګه ده؟ سوال: (٢١٧٢) [١] دتلاوت سجده فرض ده او کـه واجبه او څـه ډول يـي ادا کـړي يعني پـه سجده کـي او دسجدي مخکي يا وروسته څه لوستل په کار دي؟ اوکله چي دقرآن کريم په تلاوت اخته وي او دسجدي ايت ووايي نو هغه وخت په ناسته سجده وکړي که ودريږي؟

سوال: (٢١٧٣) [٢] بل دا چي که چيري يو ځل دسجدي ايت په عربي ژبه کي ووايي او وروسته يي په ژباړه باندي تکرار کړي يايي همدا ډول چاته وښيي يا يي په خپله يادوي چي له دي امله دسجدي ايت ډير ځله وويـل سي پـه دي ټولـو صـورتونوکي بـه دتـلاوت سجده يوځل وي اوکه بيله بيله؟

سوال: (٢١٧۴) [٣] بل داچي پـه کومـو وختونـوکي چي هر ډول لمونځونـه مکروهـه وي دتلاوت سجده کول جائز دي اوکه نه؟ مثلا دسهار دفرضو وروسته تر لمر ختلو پوري، يا دغرمي په مهال، يا دمازديګر ترلمانځه وروسته، همدغه ډول دصبح صـادق پـه مهال، دسهار ترسنتو مخکي يا دسنتو او فرضو په مينځ کي؟

سوال: (٢١٧۵) [۴] بـل دا چي کـه چيري نابـالغ ماشـوم تـه څـوك سـبق ښـيي نـو دماشـوم دلوري په خپله سجده وکړي اوکه هغه ته معاف ده؟

سوال: (٢١٧٦) [۵] اوکـه چيـري دتـلاوت پـه مهال دسـجدي ايت څوك ديـو لوسـتونکي څخه واوري نوکه چيري هغـه وربانـدي پـه خپلـه پـوه سـو اوادا يـي کـړه فبهـا، کـنې دهغـه سجده نه ادا کول پرلوستونکي باندي دګناه باعث ګرځي؟ اوکـه بـه يـي داوريـدونکي لـه لوري هم لوستونکی ادا کوي؟

جواب: دتلاوت سجده واجبه ده، طريقه يي داده چي دالله اکبر په ويلو سره دي سجدي ته ولاړ سي، دري ځلي يا ډير په رعايت سره دي سبحان ربي الأعلى ووايي، بيا دي دالله اکبر په ويلوسره ولاړ سي، سجده يي ادا سوه کـه چيـري پـه ناسـته سجدي تـه ولاړی او ترسجدي وروسته بيا کښينستی نو په دي کي هم څه ستونزه نسته، ليکن غوره داده چي

---

(١) وهي على التراخي على المختار ويكره تأخيرها تنزيها الخ إن لم يكن صلوتية (درمختار) حتى لو أداها بعد مدة كان مؤديا إتفاقا لا قاضيا الخ لو تراخى كان أداء مع أن المرجح أنه على الفور ويأثم بتأخيره (رد المحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢١، ط.س. ج٢ ص١٠٣). ظفير

تردریدلو وروسته دي سجدي ته ولاړ سي او دسجدي څخه وروسته دي ودریږي: يجب بسبب تلاوة آية أي أكثرها مع حرف السجدة (درمختار) وهى سجدة بين تكبيرتين مسنونتين جهرا وبين قيامين مستحبين بلا رفع يد وتشهد وسلام وفيها تسبيح السجود (درمختار. سجود التلاوة، جميل الرحمن).

[٢] په دې ټولو صورتونو کي به يوه سجده واجبه سي (ولو كررها في مجلس تكررت وفي مجلس واحد لا تتكرر بل كفته واحدة الخ (درمختار سجود التلاوة).

[٣] دلمر ختلو، لويدلو او زوال په مهال دتلاوت سجده هم حرامه ده ليکن کله چي دسجدي ايت په دي وختونو کي ووايي نو سجده هم په دي وختونوکي صحيح ده او دسهار ترلمانځه وروسته تر لمر ختلو پوري او دمازديګر ترلمانځه وروسته تر لمر لويدلو پوري، اودصبح صادق څخه وروسته دتلاوت سجده کول صحيح دي. ذكره تحريما صلوة ولو على جنازة وسجدة تلاوة وسهو مع شروق اواستواء وغروب الخ وكره نفل إلى قوله بعد صلوة فجر وصلوة عصر لا قضاء فائتة وسجدة تلاوة وصلوة جنازة وكذا بعد طلوع فجر سوى سنة الخ تنوير.

[۴] پر نابالغه ماشوم باندي دتلاوت سجده نه واجبيږي.

[۵] پراوريدونکو باندي به سجده کول واجب سي، که چيري هغوی ونه کړه نو پرلوستونکي باندي څه ګناه نسته. او لوستونکی داوريدونکو دلوري سجده نسي کولای. (فالسبب التلاوة وإن لم يوجد السماع كتلاوة الأصم والسماع شرط في حق غير التالي (درمختار، جميل الرحمن).

الباب الثالث عشر في صلوٰة المريض

ديارلسم باب دمريض دلمانځه په بيان کي

(دناروغانو لپاره دلمانځه په ارکانو کي رعايتونه)

<u>په ناسته لمونځ کوونکي پسي دولاړ اقتدا صحيح ده</u>: سوال: (٢١٧٧) کم إمام چي لمونځ په ناسته ورکوي خو هغه ته څه عذر او تکليف هم وی چي دهغه سره دی دريدلای نه سي اوټول کارو بار په ولاړه کوي نو دهغه او مقتديانو لمونځونه صحيح دي اوکه نه؟

جواب: که چيري معذور وي چي په ولاړه لمونځ نه سي کولای نو په ناسته دهغه لمونځ صحيح دی او په هغه پسي دمقتديانو لمونځونه هم صحيح دي. ([1])

([1]) ويصح إقتداء القائم بالقاعد الذي يركع ويسجد لا إقتداء الراكع والساجد بالمؤمي (عالمگيري مصري باب الإمامة ج١ ص٧٩، ط. ماجدية ج١ ص٨٥). ظفير

اوکه چيري هغه دومره معذور نه وي بلکه په ولاړه باندي په لمونځ کولو قادر وي نو دهغه لمونځ صحيح نه دی، او په ده پسي به دمقتديانو لمونځ هم صحيح نه وي. (١)

يوازي يو څادر پرځان پيچلو سره لمونځ صحيح دی: **سوال**: (٢١٧٨) [١] که چيري ناروغ ديخنۍ له امله برستن يا څادر پرځان تاو کړي او لمونځ کوي چي ټول بدن يي دمخ اوسر سره په هغه کي پټ وي، او دهغه ستر لکه زنګون، يا ورنونه يا کوناټي هغه ته په خپله ښکاريږي او پټ نه وي ورڅخه اوکم کس چي دهغه په څنګ کي وي دهغه له نظره څخه پټ وي، نو ددي ناروغ لمونځ به صحيح وي اوکه نه؟

دمجبوري له امله په ناپاکو کالو سره لمونځ: سوال: (٢١٧٩) [٢] که چيري مريض مجبورا دپليتۍ سره لمونځ ادا کړي نو دصحت څخه وروسته به ورباندی قضا لازمه وي اوکه نه؟

جواب: [١] ددي ناروغ لمونځ صحيح دی. (٢)

[٢] که دمجبوريۍ له امله کالي پاکيدای نه سي اونه پاك پاته کيدای سي نو دهغه لمونځ صحيح دی، اوکه يي کالي بدلولای سوای او بدل يي نه کړل نو قضا به ورباندي لازمه وي. (٣) فقط

په سخته ناروغي کي روژه او لمونځ پرېښوول او دهغي کفاره: **سوال**: (٢١٨٠) دزيد انا تر پنځو کلونو په داسي ناروغي کي اخته وه چي له امله يي يوه پښه او لاس شل سوي وه، چي دی ته دفالج ناروغي ويل کيږي، بيا هغه د٥٨ کلونو په عمرکي وفات سوه، ترکمه وخته پوري چي هغه ګرځيدله هوښ اوحواس يي پرځای وه، هغي لمونځونه او روژي ادا کولي، خو دکم وخت څخه چي هغه دګرځيدو ولويده هوښ او حواس يي هم پرځای پاته نه سو، نو لمونځ اوروژه ورڅخه پاته سوه که چيري په خپله يا دبل چا په وينا به دلمانځه لپاره په کټ کي مخ په قبله کښينول سوه نو لمونځ کول به يي پيل کړل خو په لمانځه کي به ئي اخوا ديخوا کتل، په دغو شپو ورځو کي چي کله دا دخپل اودس.مات څخه هم خبره نه وه په دي لمؤنځ او روژه فرض وه اوکه نه؟ که چيري فرض وه نو اوس دهغو ادا

(١) من فرائضها التی لا تصح بدونها التحريمة الخ ومنها القيام الخ في الفرض الخ لقادر عليه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة بحث القيام ج١ ص٤١٤، ط.س. ج١ ص٤٤٢). ظفير

(٢) والشرط سترها عن غيره ولو حكما كمكان مظلم لا سترها عن نفسه به يفتی فلو راها من زيقه لم تفسد وإن كره (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج١ ص٣٨٠، ط.س. ج١ ص٤٩٠). ظفير

(٣) ون إستوعب عذر تمام وقت صلوة مفروضة الخ وحكمه الوضوء لما غسل ثوبه ونحوه الخ وإن سال علی ثوبه فوق الدرهم جاز له ان لا يغسله إن كان لو غسله تنجس قبل الفراغ منها ای الصلوة وإلا الخ فلا يجوز ترك غسله (الدر المختار علی هامش ردالمحتار احكام المعذور ج١ ص٢٨١، ط.س. ج١ ص٣٠٥). ظفير

كونه په كومه طريقه وكړل سي؟

جواب: روزه خو په داسي حالت كي مؤخره كيږي اوپه داسي حالت كي دروژي فديه واجبه سي (١) او هغه كفايت كوي لمونځ دهغي په ذمه فرض دى البته كم لمونځونه چي هغي په داسي حال كي وكړل هغه وسوه (٢) اوكم لمونځ چي يي بالكل كړى نه دى دهغه فديه بايد وارثان وركړي، اگركه وصيت يي نه وي كړى هم، او اگركه هغي مال نه وي پرې ايښي، په دي دواړو صورتوكي فديه دوراثانو پرذمه واجبه نه ده، ليكن وركړه يي غوره او بهتره ده او اميد دى چي دا به دهغي دفوت سوو لمونځونو فديه وگرځي. (٣) فقط

<u>سترگي جوړوونكى به لمونځ څنګه ادا كوي؟</u> سوال: (٢١٨١) دسترگي دزخم په هكله دا سوال كوو چي ډاكتران ډير تاكيد كوي چي سر ته دي لږ حركت هم نه وركوي. نو دلمانځه په هكله به څه حكم وي بيخي يي ادا نه كړي اوكه يي ادا كوي نو څنګه؟ دسر دښورولو قطعي ممانعت دى كه اودس كوي په كمه طريقه سره به يي كوي يا كه تيمم وهي نو څنګه؟ او ددي څخه وروسته تر دريو ورځو پوري پټى تړلي اوسي، په دې حالت كي به اودس كوي او كه له كمي بلي وجهي تيمم وهي نو يوازي پرپټى به مسحه كوي اوكه پرټول مخ باندي يعني ټول مخ به نه مينځي اوكه هغه ځرمنه چي دپټى څخه بيله ده هغه دي په لاس سره لنده كړي ځكه چي مينځلى يي نه سي؟

جواب: په شامي كي دي قوله وإن تعذر القعود ولو حكما كما لوقدر على القعود ولكن بزغ الطبيب الماء من عينيه وأمره بالإستلقاء اياما اجزأه أن يستلقي ويرمي لأن حرمة الأعضاء كحرمة النفس الخ (٤) ددي حاصل دادي چي كنبينستل ورته گران وي اگركه حكما وي، مثلا چي كنبينستلاى سي او ډاكتر سترگه ورجوړه كړه او ورته يي وويل

(١) وللشيخ الفاني العاجز عن الصوم الفطر ويفدي وجوبا الخ (درمختار) للشيخ الفاني أى الذي فنيت قوته او اشرف على الفناء ولذا عرضوه بأنه الذي كل يوم في نقض إلى أن يموت الخ عن الكرماني المريض إذا تحقق اليأس من الصحة فعليه الفدية بكل يوم من المرض اهـ (رد المحتار كتاب الصوم فصل في العوارض المبيحة لعدم الصوم ج٢ ص١٢٣، ط.س. ج٢ ص٤٢٧). ظفير

(٢) من تعذر عليه القيام لمرض الخ صلى قاعدا ولو مستندا إلى وسادة الخ كيف شاء (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المريض ج١ ص٧٠٨، ط.س. ج٢ ص٩٥). ظفير

(٣) ولو مات وعليه صلوات فائتة و اوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله (درمختار) و أما إذا لم يوص فتطوع بها الوارث قال محمد في الزيادات أنه يجزيه إنشاء الله تعالى (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٥ – ٦٨٢ ، ط.س. ج٢ ص٧٢). ظفير

(٤) ردالمحتار باب صلوة المريض ج١ ص٧١١، ط.س. ج٢ ص٩٩. ظفير

چي يو څو ورځي سيده پروت أوسه نو هغه ته دا كافي ده چي سيده (ستوني ستغ) پروت واوسي او په اشاره سره لمونځ وكړي او ښكاره ده چي په اشاره كي دسر ښورول ضروري دي ددي پرته لمونځ نه سي كيداى، او لمونځ پريښودل كيږي هم نه، ځكه چي عقل يي جوړ دى او بيهوښي هم نسته. قاري عبد الرحمن صاحب پاني پتي (رحمه الله) چي كله سترګه جوړه كړي وه نو په اشاره به يي لمونځ كوى او ډاكتر ورته اجازت وركړى وو او په ښكاره ډول كم نقصان نه وو ورته پيس سوى نو دلمانځه لپاره دسر داشاري اجازت اخستل په كار دي اوكه چيري اجازت ورنه كړي نو بيا هم لمونځ پريښودل نه ښايي، او كله چي پرسترګه باندي پټۍ وي نو نور مخ دي ومينځي، او پر پټۍ باندي دي مسحه وكړي ([1]) اوكه چيري دنور مخ په مينځلو سره سترګي ته دلوندوالي دأثر درسيدلو بيره وي اوهغه دسترګو لپاره زيان اړوي نو پرټول مخ باندي هم مسحه كول صحيح دي او نور اندامونه به مينځي، اوكه چيري دكم عذر له امله تيمم وهي نو تيمم دي دقاعدي سره سم ووهي يعني ديوه ضرب څخه وروسته دي پر مخ باندي پرپټۍ سربيره لاس وګرځوي، اوپه بل ضرب كي دي لاسونه مسح كړي. فقط

دكمزوري له امله په ناسته لمونځ كول صحيح دي: **سوال**: (٢١٨٢) يو سړى ډير ضعيف او كمزورى دى حواس يي سم نه اوسي پنځه واړه لمونځونه په ناسته ادا كوي دهغه لمونځ سم دى اوكه نه؟

جواب: چي څومره وس لري دهغه سره سم به لمونځ ادا سي كه چيري دولاړي وس نه وي نوپه ناسته سره اوكه دناستي وس نه وي نو په پروته سره لمونځ ادا كول صحى دي ([2]) غرض داچي تكليف په قدر دوسعت دى، قال الله تعالى: لا يكلف الله نفسا إلا وسعها، الآية ([3]). فقط

چي داوداسه يا تيمامه وس نه لري نو لمونځورباندي فرض دي اوكه نه؟ سوال: (٢١٨٣) [١] په مريض كي دومره طاقت نسته چي په خپله اودس وكړي يا تيمم ووهي نو پرهغه باندي لمونځ واجب دى اوكه نه؟

([1]) وحكم مسح جبيرة الخ او خرقة قرحة وموضع فصد وكي ونحو ذلك عصابة جراحة كغسل لا تحتها فيكون فرضا الخ ويجمع الخ معه اى غسل الأخرى الخ ويترك المسح كالغسل إن ضر وإلا، لا يترك (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب مسح على الخفين ج١ ص٢٥٧، ط.س. ج١ ص٢٧٨). ظفير

([2]) وإذا عجز المريض عن القيام صلى قاعدا يركع ويسجد الخ فان لم تستطع الركوع والسجود أومأ ايماء يعنى قاعدا الخ فإن لم يستطع القعود إستلقى على ظهره وجعل رجليه إلى القبلة الخ (هدايه باب صلوة المريض ج١ ص١۴۴). ظفير

([3]) سورة البقرة، اخيري ركوع. ظفير

ځيني وختونه مرسته كوونكى موجود وي اوكله نه وي نو څه وكړي؟ سوال: (٢١٨۴) [٢] دي ناروغ ته كله كله څوك تيمم وهونكى موجود وي او كله كله نه وي نو دتيمم وهونكي دنه وجود په وخت كي څه وكړي؟

كله چي په ناروغ كي دقبلي لورته دمخامخ كيدلو طاقت نه وي نوڅه وكري؟ سوال: (٢١٨٥) [٣] ناروغ په خپله قبلي ته مخ نه سي اړولای او دهغه سره څوك سته هم نه نوڅه حكم دی؟

په اخر وخت كي يې دډيرو وختونو لمونځونه ونه كړل نوڅه وكړل سي؟ سوال: (٢١٨٦) [۴] يو سړی په ٢٠ دشوال وفات سو، او درجب څخه نيولي دشوال تر شلمه پوري دا صورت وو چي كله به يې لمونځ وكړی اوكله نه سره ددي چي په هغه كي دومره قوت وو چي اوبه وغواړي يا سر پورته كړي؟

جواب: [١-٢-٣] په دي صورتونو كي دي دبل چاڅخه په اوداسه ياتيمم كي مرسته وغواړي او داوداسه يا تيمامه پرته او همدا ډول قبلي ته دمخ ګرځولو پرته دي لمونځ نه كوي، او لمونځ په دي صورتونو كي ساقط نه سو چي كله وخت ورته ميسر سو نو دغه لمونځ دي اداء يا قضاء وكړي. (١)

[۴] دهغه پرذمه دا لمونځونه فرض پاته وه او دفديي وصيت كول دهغه په ذمه لازم وو نو دوصيت په صورت كي دي دتركي ديوه ثلث څخه دهغه دلمونځونو فديه وركړل سي او دثلث څخه په ډير كي وارثان اختيار لري كه غواړي ادا دي كړي او دا غوره دي، كه نه وي پرهغوی باندي څه ګناه نسته. (٢) فقط

دچا چي طاقت نه وي هغه دلمانځه فديه وركولای سي او كه نه؟ سوال: (٢١٨٧) كم سړی چي بي طاقته وي هغه دخپل عمر دروژو او لمونځونو دقضا په مقابل كي فديه وركول غواړي داروپې په ديني مدرسه كي لګول كيدای سي ايا په هغوكي تمليك ضروري دی؟

---

(١) دلمانځه لپاره اودس يا تيمم ضروري دی كه يې په خپله كوی اوكه دنورو په مرسته، اما الشرائط المجمع عليها فستة الخ الطهارة من الحدث الخ أما الطهارة من الحدث قدمها لكونها أهم الشروط واكدها حتى انها لا تسقط بحال ولا يجوز الصلوة بدونها اصلا بخلاف غيرها من الشروط (غنية المستملي ص١٣) قبلي ته مخ كول هم شرط دي ليكن فقهاؤ څرګندہ كړيده چي دعاجز لپاره چي كم لور ته يې قدرت وي هغه كافي دی: ومريض صاحب فراش لايمكنه أن يحول وجهه وليس بحضرته احد يوجهه يجزيه صلوته إلى حيثما شاء الخ (عالمګيري كشوري كتاب الصلوة باب ثالث فصل ثالث ج١ ص٢٢، ط. ماجدية ج١ ص٢٣). ظفير

(٢) ولومات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف من بر وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله (درمختار) فلو زادت الوصية على الثلث لايلزم الولى إخراج الزائد إلا باجازة الورثة (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٥، ط.س. ج٢ ص٧). ظفير

جواب: شيخ فاني ته دروژي فديه وركول خو صحيح دي (١) ليكن دلمانځه فديه په خپله هغه ته وركول صحيح نه دي، او لمونځونه په دي فديي سره نه ساقطيږي. ځکه چي په لمانځه کي دا وسعت دی چي که يي په ولاړه نسي كولاى نو په ناسته دي وكړي (٢) او كه په ناسته يي هم نه سي كولاى نو په پروته دي وكړي، اوكه ركوع او سجده نه سي كولاى په اشاره سره دي وكړي البته دهغه دمرګ ځخه وروسته چي کم لمونځونه يا روژي پاته سي، او هغه دفديي ادا كولو وصيت وكړي او مال هم پريږدي نو دهغه دوارثانو پرذمه دفديي وركول ضروري دي، او دهغي حكم دزكوة په څير دی دفقير تمليك په دي كي ضروري دی نوكه په اسلامي مدرسو كي مسكينانو طالبانو ته وركړل سي نو داهم صحيح اوپه دي كي ډير ثواب دی، ځکه چي دديني علم دطالبانو مرسته ده. فقط

دكشتۍ څخه دباندي كښته سوم او لمونځ مي وكړی نو وسو اوكه نه؟ سوال: (٢٩٨٨)يو ځل زه دپير صاحب ملاقات ته ولاړم زه دكشتۍ څخه دباندي را كښته سوم او لمونځ مي وكړی دا جائز دی اوكه نه؟

جواب: صلى الفرض في فلك جار قاعدا بلا عذر صح لغلبة العجز وأساء وقالا لا يصح إلا بعذر وهو الأظهر برهان. والمربوطة في الشط كالشط في الأصح الخ درمختار (٣) قوله جارٍ اى سائرا إحترازا من المربوطة قوله والمربوطة في الشط كالشط فلا تجوز الصلوة فيها قاعدا إتفاقا وظهر ما في الهداية وغيرها الجواز قائما مطلقا اى إستقرت على الأرض او لا وصرح في الإيضاح بمنعه في الثاني (أى في عدم الاستقرار) حيث أمكنه الخروج الحاقا لها بالدابة نهر. واختاره في المحيط والبدائع وعزاه في الإمداد ايضا إلى مجمع الروايات عن المصفى وجزم به في نور الإيضاح وعلى هذا ينبغي أن لا تجوز الصلوة فيها سائرة مع إمكان الخروج إلى البر وهذه المسئلة الناس عنها غافلون شرح المنية (٤) والمربوطة بلجة البحر إن كان الريح يحركها شديدا فكالسائرة وإلا فكالواقفة

---

(١) والشيخ الفاني الذي لا يقدر على الصيام يفطر ويطعم لكل يوم مسكينا كط يطعم في الكفارات (هدايه كتاب الصوم باب يوجب القضاء والكفارة ص٢٠٤). ظفير

(٢) من تعذر عليه القيام اى كله لمرض الخ صلى قاعدا الخ كيف شاء الخ وإن تعذر الخ اومأ قاعدا الخ وإن تعذر القعود ارمأ مستلقيا الخ وإن تعذر الإيماء برأسه وكثرت الفوائت الخ سقط القضاء عنه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المريض ج١ ص٧٠٨، ط.س. ج٢ ص٩٥). ظفير

(٣) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المريض مطلب في الصلوة في السفينة ج١ ص٧١٣، ط.س. ج٢ ص١٠١. ظفير

(٤) رد المحتار باب صلوة المريض ج١ ص٧١٣ – ٧١٤، ط.س. ج٢ ص١٠١. ظفير

ويلزم استقبال القبلة عند الإفتتاح وكلما دارت ولو أم قوما في فلكين مربوطين صح وإلا لا، درمختار [1] ددي روایاتو څخه ښکاره ده چي که چیري کشتۍ پرغاړه ولاړه وي نوکه هغي په زمکه باندی قرار نیولی نه وي نو په هغي کي دلمانځه په جوازکي اختلاف دی، په هدایه او نوروکي ددي جواز منقول دی، اوپه محیط بدائع اونورو کي یې عدم جواز ته صحیح ویلي دي،او همدا احوط دي کما هو ظاهر. فقط

تر بیهوښۍ وروسته که په هوښ کي راسي نو په لمونځونو به څه کوي؟ سوال: (٢١٨٩) که یو سړی دناروغي دډېروالي له امله تر څلورویشتو ساعتو پوري بیهوښه وي دهغه وروسته چي کله په هوښ کي راسي نو داشاري پرته لمونځ نه سي کولای، ایا دفوت سوو لمونځونو قضا وراندي لازمه ده، که قضا وراندي لازمه وی نوکه یي په نوموړي حالت کي په اشاره سره وکړي هغه کفایت کوي اوکه نه؟ او که دڅلورویشتو ساعتو څخه ډېر بیهوښه ووبیا څه حکم دی؟

جواب: په درمختار صلوة المریض کي دي: ومن جن او اغمی علیه الخ یوما ولیلة قضی الخمس وإن زاد وقت صلوة سادسة لا للحرج الخ [2] ددي څخه څرګندہ سوه چي که دڅلور ویشتو ساعتو څخه ډېر بیهوښه وو او شپږ لمونځونه یا ددي څخه زیات ورڅخه قضا سول نو قضا وراندي لازمه نه ده، دقضا دلازموالي په صورت کي که چیري دمرض په حالت کي فوت سوي لمونځونه په اشاره سره ادا کړي نو لمونځونه به ادا سي. [3]

آیا دټول کلل دلمونځونو کفاره یوازي دقرآن کریم په یوه نسخه کیدلای سي؟ سوال: (٢١٩٠) دیوه سړي څخه دټول کال لمونځونه فوت سوي دي دمرګ په وخت کي هغه وویل چي زما دټول کال دلمونځونو په کفاره کي یو قرآن مجید ورکړئ، ځکه چي زه دومره طاقت نه لرم چي دټولو لمونځونو کفاره ادا کړم ایا دشریعت په رڼا کي به دا قرآن مجید دهغه دټول کال دلمونځونو کفاره وګرځي؟

جواب: په یوه قرآن مجید سره به دټولو لمونځونو کفاره ادا نه سي، بلکه دیوې ورځي دلمونځونو کفاره لس نیم سیره غنم په انګریزی وزن سره یا دهغو قیمت دی چي هغه تقریبا یوه نیمي روپۍ (دهغه وخت) جوړیږي او ددوولسو میاشتو دي ددي څخه اندازه ولګول سي، نو که چیري ددي سړي دترکي په یوه ثلث کي ددي امکان وي نو پوره کفاره

---

[1] الد رالمختار على هامش ردالمحتار باب صلاة المريض ج١ ص٧١٤، ط.س. ج٢ ص١٠٢. ظفير

[2] الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المريض ج١ ص٧١٤، ط.س. ج٢ ص١٠٢. ظفير

[3] وإن تعذر القعود اومأ بالركوع والسجود مستلقيا على ظهره وجعل رجليه إلى القبلة الخ (عالمگيري كشوري الباب الرابع عشر في صلوة المريض ج١ ص١٣٤، ط. ماجدية ج١ ص١٣٦). ظفير

دلمونځونو وركول په كار دي. ([1])

<u>كه دناستي وس يې نه وي نو څرنګه لمونځ وكړي</u>: سوال: (٢١٩١) هغه سړی چي دومره كمزوری سي چي كښېنستلای نه سي نو لمونځ به څه ډول كوي او سنت او نوافل به هم ادا كوي اوكه يوازي فرض به كوي؟

جواب: څوك چي په ناسته په اشاره هم لمونځ نسي كولای هغه دي په پروته په اشاره لمونځ وكړي، او سنت او نوافل ادا كول ورته ضروري نه دي، كه يي كولای سي نو غوره دي اوكه يي نه كوي نوڅه ګناه نسته. فقط ([2])

<u>دناروغی له امله دشرابو پټۍ وتړل سوه نو لمونځ څنګه وكړي؟</u> سوال: (٢١٩٢) ديوه سړي په پښه كي زخم وسو ډاكتر وربا ندي دشرابو پټۍ ولګوله او ټينګار يي وكړی چي دا به نه خلاصوي نو ايا ددي پټۍ سره لمونځ كيږي؟

جواب: هغه دي په همدي حالت كي لمونځ وكړي لمونځ دهغه صحيح دی. فقط

<u>ښځه به دولادت په مهال لمونځ څنګه كوي؟</u> سوال: (٢١٩٣) ښځه دماشوم دزيږيدني په مهال سره ددي چي حواس او هوښ يي پرځای دي او په ښكاره دماشوم دزيانمن كيدلو بيره نسته ليكن وينه او نور لندوالی يي بهيږي او دماشوم ديوي برخي وتل پاته دي او دلمانځه وخت دي اوهغه يوازی دپاكوالی دادب، يا دلمانځه دقدر او حرمت له امله او يا ددي بيري چي ټول بدن به مي په وينو ككړ سي لمونځ ونه كړي نو دا ښځه به ګنهګاره وي اوكه نه؟ او لمونځ وكړي اوكه نه؟

جواب: په داسي حالت كي كه چيري دلمانځه دوخت دوتلو انديښنه وي نو دا ښځه دي څلور اندامونه ومينځي كه يي مينځلای سي كه نه وي تيمم دي ووهي او لمونځ دي ادا كړي، او ددي ويني خيال دي نه كوي ځكه چي داوينه داستحاضي ده مانع عن الصلوة نه ده په شامي كي دي: ولو لم تصل تكون عاصية لربِّها الخ او دمنيي په شرحه كي ليكلي دي: فلا يجوز لها تفويت الصلوة الخ. ([3]) فقط

([1]) ولو مات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعنى لكل صلوة نصف صاع بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٥ – ٦٨٦، ط.س. ج٢ ص٧٢) دقيمت كم حساب چي ليكل سوی دی هغه د١٣۴۴ هجري قمري كال دي زموږ په اوسنی زمانه ١٣٨١ هجري كي به په قيمت كي لوی فرق راځي ځكه چي نن صبا دلس نيمو سيرو غنمو قيمت لږ تر لږه څلور روپی دي، په هر حال دغنمو حساب خو به هغه وي چي ليكل سوی دی، ليكن دقيمت اندازه به دموجوده وخت سره لګول كيږي كه لږ وي اوكه ډير، والله اعلم. ظفير

([2]) وإن تعذره القعود ولو حكما اومأ مستلقيا على ظهره ووجهه نحو القبلة الخ او على جنبه الأيمن او الأيسر ووجهه إليها الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المريض ج١ ص٧١١ – ٧١٢، ط.س. ج٢ص٩٩). ظفير=

دباد و دناروغ كه په لمانځه كي باد ووزي نو څه حكم لري؟ سوال: (۲۱۹۴) كه چيري يوه سړي ته دنفخ ناروغي وي نو هغه په تازه اودس كولو سره لمونځ ادا كولای سي؟ اوكه دلمانځه په حالت كي ورڅخه هوا ووزي نوڅه حكم لري؟

جواب: كه چيري دا سړى شرعي معذور ګرځيدلى وي يعني دهوا دوتلو ناروغي يي دومره ډيره وي چي يو وخت ورباندي داسي راغلى وي چي دلمانځه په ټول وخت كي دي ناروغي دومره مهلت نه وي وركړي چي اودس وكړي او فرض لمونځ ددي عذر څخه پرته وكړي، نو دهغه لپاره جواز سته چي په يوه اودس سره په وخت كي دننه لمونځ وكړي اګر كه هوا ورڅخه په لمانځه كي په وتو وي، درمختار (١). فقط

دسيند پرغاړه تړل سوي كښتۍ كي لمونځ روادي اوكه نه؟ سوال: (۲۱۹۵) كه چيري كښتۍ دسيند پرغاړه تړل سوي وي نو په ولاړه پرځمكه داستقرار څخه پرته په هغي كي لمونځ كول جائز دي اوكه نه؟ په خلاصة الفتاوى ج۱ص۱۹۴ كي ناجائز ليكلي دي.

جواب: په هدايه كي دي: والمربوط كالشط هو الصحيح (٢) ومثله في الدرالمختار وفي ردالمحتار قوله والمربوطة والشط فلا تجوز الصلوة فيها قاعدا إتفاقا فظاهر ما في الهداية وغيرها الجواز قائما مطلقا أى إستقرت على الأرض اولا وصرح في الإيضاح بمنعه في الثاني حيث أمكنه الخروج (٣) الحاقا لها بالهداية الخ معلومه سوه چي صحيح داده چي: پر غاړه تړل سوي كښتۍ كي په ولاړه لمونځ كول صحيح دي البته په ناسته كول جائز نه دي ليكن احتياطي خبره داده چي دكښتۍ څخه وتلى پرغاړه لمونځ وكړي تر څو دخلاف څخه وتلى وي. فقط



(٣) إمرأة خرج رأس ولدها وخافت فوت الوقت توضأ إن قدرت وإلا تيممت وجعلت رأس ولدها في قدر او حفيرة وصلت قاعدة بركوع وسجود فإن لم تستطعها يؤمي ايماء أى تصلي بحسب طاقتها ولا تفوت الصلوة عن وقتها لأنها لم تصر نفساء بخروج بعض الولد ما لم ير الدم بعد خروج الولد كله والدم الذي تراه في حالة الولادة قبل خروج الولد إستحاضة لا تضع الصلوة فكانت مكلفة بقدر وسعها فلا يجوز لها تفويت الصلوة عن وقتها إلا إن عجزت بالكلية كما في سائر المرضى (غنية المستملي ص۲۲۵ – ۲۲۲). ظفير

(١) وصاحب عذر من به سلسل البول لا يمكنه إمساكه او استطلاق بطن او إنفلات ريح الخ إن إستوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة بأن لا يجد في جميع وقتها زمنا يتوضأ ويصلي فيه خاليا عن الحدث ولو حكما الخ وحكمه الوضوء لا غسل ثوبه ونحوه لكل فرض ثم يصلي به فيه فرضا ونفلا الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب احكام المعذور ج۱ ص۲۸۰، ط.س. ج۱ ص۳۰۵). ظفير

(٢) هدايه باب صلوة المريض ج۱ ص۱۴۵. ظفير

(٣) رد المحتار باب صلوة المريض مطلب في الصلوة في السفينة ج۱ ص۷۱۴، ط.س. ج۲ ص۱۰۱. ظفير

الباب الرابع عشر في صلوٰة المسافر

څوارلسم باب دلمانځه په بيان کي

مسافر به لمونځ څنګه ادا کوي او نور مسائل

که دارادي پرته اتفاقا پنځلس ورځي تم سي نو څه به کوي؟ سوال: (٢١٩٦) يو څو کسان دټوکرانو تجارت ته ځي او په يوه ځای کي اوسي په شاوخوا علاقو کي ټوکران وپلوري او شپي ته خوني ته راسي او لمونځونه قصر (مسافرانه) کوي، او وايي چي زموږ دقيام اراده نسته چي ټوکران وپلورو ولاړ به سو، په دي صورت کي که پنځلس ورځي يا ډيري ولګيږي نو څه حکم دی؟

جواب: کله چي دسره هلته اراده دپنځلسو ورځو دتمتيا نه وي اګر که په اتفاقي ډول دهغوي پنځلس ورځي يا ډيري هلته قيام راسي نو په داسي حالت کي لمونځ قصر کول ښايي. ([1]) فقط

چي پرګمه لاره باندي سفر وي دهغي اعتبار دی: **سوال**: (٢١٩٧) اجمير زموږ دځايه په پياده لاره شل ميله ليري دی او دريل ګاډي په لاره اتيا ميله دی که چيري دريل په لاره سفر کوو نو قصر به کوو اوکه نه؟

جواب: که چيري دريل په لاره سفر کوی نو قصر به واجب وي. ([2])

چيري چي پلار مقيم وي نو زوی به دپنځلسو ورځو داقامت دنيت څخه پرته قصر نه پريږدي:

سوال: (٢١٩٨) يو سړی دروزګار په لړ کي دخپل وطن څخه بهر تپور ته راغی، په بهر تپورکي دهغه داستوګني ځلويښت کاله موده تيره سوه په دي دوران کي به هغه رخصت اخستی، او خپل وطن ته به هم تلی ليکن کله به يي دکور کسان هم دلته راوستل په بهرتپور کي دکرايي په کورکي اوسيدل دهغه زوی محمد رفيق هم ورسره وو اوس هغه دروزګار په هيله دهلي ته ولاړ، په دهلي کي داوسيدلو يي ځلور پنځه کاله وسول اوس که چيري محمد رفيق ددهلي څخه بهرتپور ته خپل پلار ته راځي نو لمونځ به پوره کوي اوکه قصر؟

---

[1] ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر الخ ولو دخل مصرا على عزم أن يخرج غدا او بعد غد ولم ينو مدة الإقامة حتى بقى على ذلك سنين قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفير

[2] فان قصد بلدة وإلى مقصده طريقان أحدهما سيرة ثلثة أيام ولياليها والآخر دونها فسالك الطريق الأبعد كان مسافرا عندنا هكذا في فتاوى قاضيخان (عالمگيري كشوري ج١ ص١٣٢، الباب الخامس في صلوة المسافر ط. ماجدية ج١ ص١٣٨). ظفير

جواب: که چیري بهرتپور ته دپنځلسو ورځو دقیام په نیت راتلل نه وي نو لمونځ قصر کول په کار دي ځکه چي بهرتپور یي داقامت وطن وو په سفر کولو سره هغه باطل سو. (١) فقط

امبر سر یي پرېښوول او لاهور یي داقامت وطن جوړ کړی اوس به دی په امبرسر کی څنګه لمونځ ادا کوي؟ **سوال**: (٢١٩٩) په امبرسر کي اوسیدی بیا په لاهور کي سره دښځي او بچیانو دځلورو کالو راهیسي استوګنه کوي اوپه امبرسر کي یي څه ځمکه هم ده او ورونه او خویندي یي هم په لاهور کي اوسیږي که چیري دامبرسر او لاهور تر مینځ دسفر مسافه وي نو داسړی به په امبرسر کي قصر کوي اوکه نه؟

جواب: که چیري دي سړي دلاهور څخه اصلي وطن جوړ کړی وي او دامبرسر سکونت یي پرېښی وي نوبیا چي ترڅو په امبرسر کي دپنځلسو ورځو نیت ونه کړي لمونځ به قصر کوي، کما في الدرالمختار الوطن الأصلي یبطل بمثله إذا لم یبق له بالأول أهل الخ. (٢) فقط

دقصر مسافت ۴۸ میله ده: **سوال**: (٢٢٠٠) منزل به څومره میله وي دانګریزي میل په حساب قصر لمونځ په دري منز له کول ښایي او که څنګه؟

جواب: زموږ په نزد معمول دقصر دسفر لپاره ۴۸ میله ده شپاړس میله یو منزل ګرځول سوی دی. فقط

داطمینان په مهال به مسافر سنت کوي: **سوال**: (٢٢٠١) مسافر به یوازي فرض ادا کوي اوکه سنت هم؟

جواب: په درمختار کي دي: ویأتي المسافر بالسنن إن کان في حال أمن وقرار وإلا بأن کان في خوف وقرار لا یأتي بها هو المختار لأنه ترك لعذر الخ قیل إلا سنة الفجر الخ وفي الشامي قال في شرح المنیة وإلا عدل ما قاله الهندواني قلت والظاهر أن ما هو في المتن هو هذا ص۵۳۲. ج١ شامي. (٣) ددي عبارت څخه څرګنده سوه چي که مسافر دامن په حالت کي وي او ایسار سوی وي نو سنت دي وکړي اوکه چیري دامن حال نه وي بلکه دسفر تلوار او بیره وي نو سنت دي پرېږدي، اوځینو فقهاؤ فرمایلي دي چي دسهار سنت دي بیا هم نه پرېږدي. فقط

مسافر به په څومره مسافت کی قصر کوي؟ **سوال**: (٢٢٠٢) مسافر ته په څومره فرسخه کي

---

(١) وطن الإقامة یبطل بوطن الإقامة وبانشاء السفر وبالوطن الأصلي (عالمګیري کشوري باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٠، ط.س. ج١ ص١۴٢). ظفیر

(٢) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴٢، ط.س. ج٢ ص١٣٢. ظفیر

(٣) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴٢، ط.س. ج٢ ص١٣١. ظفیر

قصر كول په كار دى او هر فرسخ څومره ميله دى؟

جواب: سفر كه چيري ددرو منزلو يعني دريو ورځو وي نو په مسافر باندي قصر لازم دى او ځينو فقهاؤ دمنازلو په عوض كي په فرسخونو اوميلونو سره تحديد كړى دى. (١) په دي كي درى قوله دي: ځينو (٢٠) فرسخه يعني ٢٣ ميله او ځينو ١٨٠ فرسخه يعني ٥۴ ميله او ځينو ١۵ فرسخه يعني ۴۵ ميله ټاكلي دي. او مفتى به قول ثاني يا ثالث دى، قال في الشامي ثم اختلفوا فقيل أحد وعشررن وقيل ثمانية عشر وقيل خمسة عشر والفتوى على الثاني لأنه الأوسط وفي المجتبى فتوى أئمة خوارزم على الثالث (٢) اودريم مذهب دا دى چي عادتا په دريو ورځو كي څومره مزل كيږي په هغه كي قصر واجب دى، او ميل څلور زره زراعه دى يا څلور زره قدمه. كذا في الشامي. (٣)

(٢٢٠٣) **سوال:** **كم حنفي مسافر چي دقصر په ځاى پوره لمونځ كوي دهغه څه حكم دى؟**

يوه حنفي مسافر په لمانځه كي قصر ونه كړى چي كله سوال ورڅخه وكړل سو نووي ويل چي كله قصر كوم داسي راته ښكاري لكه لمونځ چي مي نه وي كړى او دزړه ډاډ مي نه كيږي ځكه نو قصر نه كوم او دمجبورى له مخي دامام شافعى رحمه الله قول عملي كوم په دي صورت كي ددي مسافر لمونځ وسو اوكه نه؟

جواب: دي مسافر دا كار بد وكړى دامام شافعى (رحمه الله) په مذهب باندي په دي صورت كي حنفي ته عمل كول صحيح نه دي دخپل مذهب موافق دي هرومرو قصر كوي قصر كول واجب دي (۴) نور نوكه هغه ځانته لمونځ وكړى نو صحيح سو اوكه امام جوړ سو نو دمقتديانو لمونځ يي ونه سو. (۵) فقط

كه يي چيرى لومړى دپنځلسو ورځو داقامت نيت وكړى نو په شاوخوا ئك راتك راباندي به

---

(١) قاصد مسيرة ثلاثة أيام ولياليها من أقصر أيام السنة ولا يشترط سفر كل يوم إلى الليل بل إلى الزوال ولا إعتبار بالفراسخ على المذهب (درمختار) قال في النهاية أى التقدير بثلاث مراحل قريب من التقدير بثلاثة أيام الخ وكذا ما في الفتح من أنه قيل يقدر بأحد وعشرين فرسخا وقيل بثمانية عشر وقيل بخمسة عشر وكل من قدر عينها إعتقد أنه مسيرة ثلاثة أيام (رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣۴، ط.س. ج٢ ص١٢٢). ظفير

(٢) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣۵، ط.س. ج٢ ص١٢٣. ظفير

(٣) الفرسخ ثلاثة أميال والميل اربعة الاف ذراع (رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣۵، ط.س. ج٢ ص١٢٣. ظفير

(۴) والقصر لازم عندنا الخ والآثار في ذلك كثيرة وهى تدل إلى أن الفرض ركعتان وأن الإتمام منكر ولو كان جائزا بفعله عليه الصلوة والسلام مرة تعليما للجواز (غنية المستملي ص۴٩٩ - ۵٠٠). ظفير

(۵) فلو أتم مسافر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه ولكنه أساء لو عامدا، لتأخير السلام وترك واجب القصر وواجب تكبيرة إفتتاح وخلط النفل بالفرض الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٩، ط.س. ج٢ ص١٢٨). ظفير

لمونځ پوره کوي: **سوال**: (۲۲۰۴) دیوه آفیسر صدر ځای اسکندرآباد دی چي هلته دهغه ماشومان هم اوسیږي او دهغه ملازمت ددولسو میاشتو ددوري کولو دی داسکندر اباد څخه یوه لورته علاقه ۳۲ میله او یوه لوري ته پنځه میله او یوه لوري ته یوویشت میله او یوه لوري ته دوه ویشتو میلو ته څیرمه ده، په دوره کي په یوه ځای کي ترلسو ورځو ډیر قیام نه وي په دي صورت کي نوموړي افیسر ته په اسکندرآباد یا په نورو یادو سوو ځایونو کي قصر کول ښايي اوکه پوره لمونځ؟

جواب: قاعده دا ده چي داقامت په ځای کي چي ترڅو پوري دپنځلسو ورځو نیت په یوځل نه وي ترهغو پوري لمونځ قصر کول کیږي، اوپه دوره کي کله چي یوځای هم دشرعي مسافت یعني دقصر کولو وړ نسته نوکه یي اول په اسکندرآباد کي داقامت نیت کړی وي نو بیا په دوره کي قصر په یوه ځای کي هم نسته او که یې دسره په اسکندرآباد کي دپنځلسو ورځو داقامت نیت نه وي کړی او نه په نورو ځایونوکي دپنځلسو ورځو داقامت نیت سوی وي نو بیا دي برابر قصر کوي یعني په اسکندراباد کي هم اوپه دوره کي هم. (۱) فقط

دجهاز دملازم احکام: **سوال**: (۲۲۰۵) [۱] ځیني خلګ لیري ملکونو دساري په توګه رنګون یا بل ځای ته ولاړ سي اوپه داسي جهازونوکي نوکري کوي چي دهغو دخپل ښار او بندر څخه پرته بل لورته تلل نه وي، بلکه په همدغه ښارکي دیوه او بل جهاز دتللو او راتللو لپاره دلاري صفا کولو کار کوي؟

کم خلګ چي تل پرګوادر باندي اوسیږي: **سوال**: (۲۲۰۶) [۲] او ځیني خلګ دداسي جهازونو نوکري کوي چي هغه تل پرګوادر (بندرګاه) باندي تړلي اوسي او همیشه پرخپل ځای باندي ثابتي اوسي.

څوک چي تل په سفر سفر کي وي: **سوال**: (۲۲۰۷) [۳] ځیني خلګ په تجارتي جهازونو کي نوکران وي چي دهغو کار یواځي دیوه ښاره بل ښار ته تلل وي یو ځای یې هم دپاته کیدو ډاډ نه وي، هو کله کله په ښارکي میاشت یوه نیمه پاته سي لیکن ملازمان په دي هکله دافسر تابع وي بلکه هغوی خبر هم نه وي چي جهاز به ترکمه وخته تم وي اوکله به روانیږي په دي دري واړو صورتونو کي دجهاز ملازمانو ته قصر کول ښايي او که پوره لمونځ کول؟ او ایا په دي صورتونو کي څه توپیر سته؟

جواب: [۱-۲] په لومړي او دویم صورت کي دا خلګ مقیم دي، پوره لمونځ به کوي ځکه

(۱) لا یزال علی حکم السفر حتی ینوي الإقامة في بلدة او قریة خمسة عشر یوما او أکثر وإن نوی أقل من ذلك قصر (هدایه باب صلوة المسافر ج۱ ص۱۴۸). ظفیر

چي کله دوی رنګون یا یوه بل ښار ته دمزدوري لپاره ولاړل او هلته یې دپنځوسو یا ډیرو ورځو دپاته کیدلو نیت وکړ او بیا یې په داسې جهازونو کې نوکري پیل کړه چي سفر نه کوي نو هغوی مسافر نه سول ځکه به نو پوره لمونځونه کوي.

[٣] اوپه دریم صورت کې هغوی مسافر دي قصر لمونځ به کوي. په لومړیو دوو صورتونو کې دپوره لمونځ کولو دلیل ددرمختار دا عبارت دی: حتی یدخل موضع مقامه الخ او ینوی إقامة نصف شهر بموضع واحد صالح لها من مصر او قریة الخ ([١]) او ددریمي مسئلي دلیل دادی: فیقصر إن نوی الإقامة في أقل منه ای من نصف شهر او نوی فیه لکن في غیر صالح کبحر او جزیرة الخ او لم یکن مستقلا برأیه الخ (درمختار) قوله او لم یکن مستقلا برأیه عطف علی قوله إن نوی اقل وصورته نوی التابع الإقامة ولم ینوها لمتبوع اولم یدر حاله فانه لا یتم الخ شامي. فقط

په کم ځای کې چي دپنځلسو ورځو داوسیدو نیت نه وي لمونځ دي قصر کوي: سوال: (٢٢٠٨) دزید اصلي وطن دهلي دی او داقامت ځای یې په صدر مقام کانپورکي دی اوپه صدر مقام کي دده دقیام موده پنځلس ورځي نه جوړیږي نوداقامت په ځای کي زید دقصر لمونځ کولای سي اوکه نه؟

جواب: داقامت دځای څخه په سفر کولو سره همدا وطن داقامت باطلیږي ([٢]) وروسته که یې چیري هلته دپنځلسو ورځو داقامت نیت ونه کړی نو لمونځ به قصر کوي. فقط

دچا استوګنه چي دوه ځایه وي هغه به لمونځ څنګه کوي؟ سوال: (٢٢٠٩) دیوه سړي داستوګني لپاره دوه ځایونه دي یو په کوئټه کي دی اوبل په جیکب آباد کي، په ګرمی کي په کوئټه کي اوسیږي اوپه یخنی کي په جیکب اباد کي، او ددواړو ځایونو تر مینځ دسفر مسافت دی که چیري دی دکاروبار لپاره جیکب اباد یا کوئټې ته راځي نو قصر به کوي اوکه پوره لمونځ، دی چي هرځای وي نو کورنۍ ټوله ورسره وي، او دګرمۍ او یخنۍ په ځایونو کي ودانۍ او دژوندانه وسائل موجود وي او بس.

جواب: که یې چیري دواړه ځایونه اصلي وطن او داستوګني ځای ګرځولی وي اوپه دواړو ځایونو کي یې ودانۍ او سامانونه وي اوکورنۍ او ماشومان یې هم په دواړو ځایونو کي وي، نوپه دواړو ځایونوکي به لمونځ پوره کوي قال في الشامی من شرح المنیة ولو کان له اهل ببلدتین فأیتهما دخل صار مقیما الخ. فقط

کم ځای چي مسلسل دپنځلسو ورځو داقامت نیت نه وي قصر دي کوي؟ سوال: (٢٢١٠)

([١]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢ – ٧٣٧، ط.س. ج٢ ص١٢۴. ظفیر

([٢]) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٧ – ٧٣٨، ط.س. ج٢ ص١٢۵. ظفیر

موږ دپنځلسو كلونو راهيسي دتراوړي په ښارګوټي كي سوداګري كوو مالونه راوړو او پلورو او دي ځای ته تر راتللو وروسته كليو ته ولاړسو، ليكن په كرايه باندي مو كور نيولی دی دكور څخه چي كله موږ راسو نو څلور پنځه مياشتي اوسيږو، ليكن پنځه لس ورځي ايسارتيا نه وي دوې ورځي دباندي ولاړسو او دوې ورځي په تراوړی كي اوسو نيت مو دا وي چي څلور مياشتي وروسته به وطن ته ځو نو لمونځونه به قصر كوو اوكه پوره؟

جواب: كله چي په هغه ځای كي چي تاسو هلته دتجارت لپاره ځی دپنځلسو ورځو دقيام نيت نه وي بلكه نيت مو دا وي چي ددوو دريو ورځو ساه جوړولو وروسته به كلو ته وزو، او په ځينو كلو كي دوه ورځي په ځينو كي به څلور ورځي اوسو په دي توګه څلور پنځه مياشتي تيروی نو په دي صورت كي لمونځ قصر كول ښايي. *كذا في كتب الفقه*. [1]

<u>ددوو كورو دلرونكي حكم</u>: **سوال**: (٢٢١١) ديوه سړي دوه كورونه دي ددواړو كورونو تر مينځ دسفر مسافه ده هر ځای چي وي ماشومان دځان سره ساتي ښځه يي يوه ده په يوه كور كي، نوكه چيري دكاروبار لپاره بل كورته راسي چي عيالل يي دځان سره نه وي راوستلی نو قصر به كوي اوكه نه؟

جواب: كه يي چيري دواړه وطنه اصلي ګڼلي وي او په هغوكي يي ديوه دپريښودلو اراده نه وي كړي، او داسي يي نه وي كړي چي يو ځای يي پريښی وي اوپه بل ځای كي استوګنه غوره كړي وي نو دواړه وطنه يي اصلي دي په دوی كي به په هريوه كي لمونځ پوره كوي، والتفصيل في شرح المنية. [2] فقط

<u>چي معلومه نه وي چي څومره وخت به قيام كوي</u>: **سوال**: (٢٢١٢) موږ په فيلډ باندي راغلي يو زموږ حال دادی چي موږ ته معلومه نه ده چي موږ په خپل قيام كي څومره موده تم يو يا څومره سفر به كوولیكن ډير ځلي په سفر كي داسي وي چي تر لسو پنځلسو ميلونوزيات تلل نه وي دقيام په هكله دومره معلوميږي چي كيدی سي دلته يوه مياشت پاته شو اويا به ددي ځايه لس ورځي وروسته وكوچيږو لنډه دا چي موږ په خپل

---

[1] لا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر وإن نوى أقل ذلك قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٨). ظفير

[2] فالأصلي وهو مولد الإنسان او موضع تأهل به الخ وفي المبسوط هو الذي نشأ فيه او أوطن فيه او تأهل كقوله او توطن فيه يتناولها عزم القرار فيه وعدم الإرتحال وإن لم يتأهل فعلي هذا لو عزم من له أبوان في بلد على القرار فيه وترك الوطن الذي كان قبله له يكون وطنا له ولو تزوج المسافر ببلد ولم ينو الإقامة به فقيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما وهو الأوجه لما مر من حديث عثمان ولو كان له اهل ببلدتين فأيتهما دخلها صار مقيما وإن ماتت زوجته في أحديهما وبقى له فيها ورد عقار الخ (غنية المستملي ص**٥٠٥**). ظفير

واك كي نه يو په داسى حالت كي به موږ قصر لمونځ كوو اوكه پوره؟ كله چي دقيام او سفر هيڅ حال معلوم نه دى؟

جواب: په داسي حالت كي تاسو لمونځ پوره كوى ځكه چي دا اصل دى اودمشرانو دنيت حال معلوم نه دى. ([1]) فقط

كه مسافر دماپښين پوره څلور ركعته وكړل نو اعاده واجبه ده: **سوال**: (٢٢١٣) مسافر سهوا دماپښين څلور ركعته وكړل نو دلمانځه اعاده واجبه ده اوكه نه؟

جواب: إعاده دي وكړي وجوباً. ([2])

مسافر امام قصدا څلور ركعته وكړل نودمقتدي لمونځ وسو: **سوال**: (٢٢١۴) مسافر امام قصدا دماپښين لمونځ څلور ركعته وكړى او ورته معلومه ده چي قصر كول ښايي نو دمقتديانو لمونځ وسو اوكه نه؟ مقتدي ته دلمانځه دكولو وروسته معلومه سوه چي قصدا يې څلور ركعته كړي دي نو مقتدي څه وكړي او دامام څه حكم دى؟ دواړه حنفيان دى. بينوا تؤجروا !

جواب: دمقتديانو لمونځ ونه سو او دامام فرض ادا سو كه يې چيري منځنى قعد. كړي وي ليكن دواجبو دتاخير له أمله دسجده سهوي نه كولو په صورت كي وربانذي اعاده لازمه ده. ([3]) فقط

څوك چي پركمه لاره باندي سفر كوي دهغه اعتبار دى: **سوال**: (٢٢١۵) [1] درې كسان يوه داسي ځاى ته ولاړل چي دهغې مختلفي لاري نابرابر اوږدوالى لري يو سړى پرسيده لاره باندي ځي چي هغه ديرش منزله ده بل سړى دپاخه سړك پرلاره ځي چي هغه دچكر په وهلو سره تير سوى دى او مسافت يې شپږ ديرش منزله دى او دريم سړى دريل په ذريعه ځى چي په چكر سره ځي او مسافت يي څلويښت منزله دى په دي صورت كي به دوهم او

([1]) ولم يكن مستقلا برأيه كعبد او إمرأة اوبلدة ولم ينوها اى مدة الإقامة الخ ولو بقى سنين الخ والمعتبر نية المتبوع لأنه الأصل لا التابع كامرأة الخ وعبد الخ وجندى إذا يرتزق من الأمير او بيت المال وأجير وأسير وغريم وتلميذ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٨، ط.س. ج٢ ص١٢٢). ظفير

([2]) فلو أتم مسافر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه ولكنه أساء ولو عامدا لتأخير السلام وترك الواجب القصر الخ وهذا لا يحل كما حرره القسهتاني بعد أن فسر ساء باثم واستحق النار (درمختار) فعلم ان الاساءة هنا كراهة التحريم (ردالمحتار باب صلاة المسافر ج١ ص٧٣٩ – ٧۴٠، ط.س. ج٢ ص١۴٨). ظفير

([3]) فلو أتم سفر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه ولكنه أساء الخ وما زاد نفل كمصلي الفجر اربعا وان لم يقعد بطل فرضه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٩ – ٧۴٠) مقتديان چي مقيم وي دهغوى لمونځ ځكه نه كيږي چي دمفترض لمونځ په متنفل پسى صحيح نه دى، او په پوښتل سوي صورت كى دأمام باقى دوه ركعته نفل سول. والله أعلم. ظفير

دريم مسافر بلل كيږي اوكه نه؟ او په دري واړو لارو كي به كمه يوه سمه بلله كيږي؟

په كم مسافت ګڼلو سره له پوره لمونځ كولو وروسته ورته په تحقيق سره معلومه سوه چي دقصر مسافت وو نوڅه وكړي؟ **سوال**: (۲۲۱۶) [۲] يو سړی يوه ځای ته ولاړی چي دهغه ځای مسافت دتحقيق څخه وروسته په خپل فكر دسفر داندازې څخه كم ګڼي ځكه نو هغه لمونځونه پوره كوي څلور پنځه ورځي وروسته ورته معلومه سوه چي مسافت دسفر دحد څخه ډير دی او هغه پوره لمونځونه كړي وه نو دهغو اعاده لازمه ده اوكه نه ؟ او بل سړی په داسي ځای كي چي دشرعي مسافت څخه كم وو هلته يي دشرعي مسافت په خيال باندي قصر كوی څو څو ورځي وروسته ورته معلومه سوه چي دا مقام دسفر له حد څخه لږ دی نو دی به دهغو لمونځونو اعاده كوي اوكه نه؟

دسفر دلمونځونو قضا راوړل به دقصر په صورت كي وي: **سوال**: (**۲۲۱۷**) [۳] په سفر كي چي كم لمونځونه قضا سوي وي هغه به په حضر كي پوره كوي اوكه قصر به كوي، اوپه سفر كي چي كم لمونځونه پوره وكړل سول دهغو اعاده وكړي اوكه وسوه؟

جواب: [۱] په كمه لاره چي خوك سفر كوي دهغي لاري اعتبار دی. ځكه نو دوهم او دريم شرعي مسافر دي هغوی به قصر كوي. ([۱])

[۲] لومړنی سړی كه چيري په مينځنۍ قعده كي ناست پاته سوی وي نو دهغه فرض لمونځ وسو، اعاده يي فرض نه ده او دويم سړی دي ددغو لمونځونو اعاده وكړي. ([۲])

[۳] ددي حكم دا دی چي دسفر دقضا سوو لمونځونو قضا دي په حضر كي هم په قصر سره وكړي ([۱]) اوكم لمونځونه چي په سفركي پوره كړل سوي دي كه چيري يي په هغوكي لومړی قعده كړي وه نو هغه وسول. ([۲]) فقط

كله چي معلومه نه وي چي څو ورځي قيام به وكړل سي نو څه به كوي؟ **سوال**: (۲۲۱۸) زيد بكر ته حكم وكړی چي ته په فيلډ باندي ولاړ سه او دفيلډ ځای يې بصره وګرځوله ليكن دا يقين نسته چي پنځلس ورځي قيام به وي او كه كم يا زيات او ځينو خلګو ته حكم كيږي چي ته به په دي ځای باندي مستقل اوسيږي. اوچاته حكم وسي چي كه كم

([۱]) ولو لموضع طريقان أحدهما مدة السفر والآخر أقل قصر في الأول ولا الثاني (درمختار) أی ولو كان إختيار السلوك فيه بلا غرض صحيح خلافا للشامي كما في البدائع (رد المحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۳۵، ط.س. ج۲ ص۱۲۳). ظفير

([۲]) فلو أتم مسافر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه ولكنه أساء الخ وما زاد نفل الخ وإن لم يقعد بطل فرضه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۳۹ – ۷۴۰، ط.س. ج۲ ص۱۲۸) او دوهم سړي دڅلورو پرځای دوه ركعته وكړل ځكه نو له سره دهغه لمونځ ونه سو، بقی من المفسدات ارتداد بقلبه وموت الخ وترك ركن بلا قضاء (ايضا باب ما يفسد الصلوة ج۱ ص۵۸۸ – ۵۸۹، ط.س. ج۱ ص۲۲۹). ظفير

ځای غوښتنه وسوه ته به هلته ولیږل سي لیکن ددې خبري هیڅ‌ا ته هم پوخ یقین نسته چي څو ورځي قیام به دلته وي نو په دي صورت کي لمونځ قصر کول ښایي اوکه پوره؟

جواب: په داسي متردد حالت کي لمونځ قصر کول په کار دی. ([3]) فقط

مسافر سنت او نوافل پرېښوولای سي اوکه نه؟ **سوال**: (٢٢١٩) مسافر ته دسنتو او نوافلو دکولو په هکله څه حکم دی که يي پرېږدي نو ګناهګار به وي اوکه نه؟

جواب: داحنافو مذهب دادی چي که چیري مسافر دامن او قرار په حالت کي وي او په تلوار او تګ کي نه وي نو سنت او رواتب دي ادا کوي. اوکه چیري دامن اوقرار حالت نه وي بلکه تونديي وي او بیره وي نو سنت دي پرېږدي په درمختار باب صلوة المسافر کي دي: ويأتي المسافر بالسنن إن كان في حال أمن وقرار وإلا بأن كان في خوف واضطرار لا يأتي بها هو المختار الخ ([4]). فقط

کم سړی چي تل په دوره کي وي هغه به څنګه لمونځونه ادا کوي؟ **سوال**: (٢٢٢٠) يو سړی دنوکری دپاره په يوه داسي ځای کي ټاکل سوی دی چي تل دوره کوي او هغه پنځلس ورځي هیڅیري هم قیام نسي کولای په دي صورت کي چي کله هغه ددرو منزلو سفر وکړي اوخپلي حلقي ته ورسیږي نوبیا به هغه قصر لمونځ کوي اوکه پوره؟

جواب: مسئله داده چي داقامت وطن يعني په کم ځای کي چي هغه دملازمت يا بل څه لپاره مقيم دی نوچي کله دهغه ځای څخه دد‌ریو منزلو دسفر اراده وکړي هغه وطن داقامت باطلیږي نوکه چیري دوري ددريو منزلو يا زياتو څخه وروسته بيرته هلته يعني داقامت ځای ته راسي که هلته دپنځلسو ورځو داقامت نيت وکړي نو لمونځ دي پوره کوي او که چیري دپنځلسو ورځو دپاته کیدلو اراده نه وي نو قصر کول ښايي. ([5]) فقط

([1]) والقضاء يحكي اي يشابه الأداء سفرا وحضرا لأنه بعد ما تقرر لا يتغير (درمختار) قوله سفرا وحضرا اى فلو فاتته صلوة السفر وقضا في الحضر يقضيها مقصورة كما لو اداها وكذا فائتة الحضر تقضي في السفر تامة (رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٥، ط.س. ج٢ ص١٣٥). ظفير

([2]) فلو أتم مسافر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٩، ط.س. ج٢ ص١٢٨). ظفير

([3]) والمعتبر نية المتبوع لأنه الأصل لا التابع كإمرأة الخ وعبد الخ وجندي واجير الخ ولا بد من علم التابع بنية المتبوع فلو نوى المتوع الإقامة ولم يعلم التابع فهو مسافر حتى يعلم على الأصح (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٥، ط.س. ج٢ ص١٣٣) او لم يكن مسقلا برأيه الخ او دخل بلدة ولم ينوها اى مدة الإقامة بل ترقب السفر الخ (ايضا ج١ ص٧٣٨، ط.س. ج٢ ص١٢٢). ظفير

([4]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٣١. ظفير

([5]) ويبطل وطن الإقامة بمثله وبالوطن الأصل وبانشاء السفر (درمختار) قال في البدائع لو قام خراسانى بالكوفة نصف شهر ثم خرج منها إلى مكة فقبل أن يسير ثلاثة ايام عاد إلى الكوفة لحاجة فإنه يقصر لان وطنه قد بطل =

له نیته پرته په سفرکي قصر نسته: سوال: (۲۲۲۱) یوه سړي دسیل نیت وکړی لیکن دکم ځای نیت یي نه دی کړی په میاشتو اوکلونو په سفر وو هغه به لمونځ قصر کوي که پوره؟

جواب: کم سړی چي له پیله دیوه ځای څخه ددریو ورځو دسفر نیت ونه کړي هغه دي لمونځ پوره کوي قصر دي نه کوي. (١) ومن طاف الدنیا بلا قصد لم یقصر (٢). فقط

څوک چي ګرځنده تجارت کوي او هیچري هم دیوي شپي څخه زیات نه پاته کیږي هغه به څنګه لمونځ ادا کوي؟ سوال: (۲۲۲۲) یو سړی دکورڅخه وتلی دديرشو یا څلویښتو منزلو په فاصله باندي دڅلوېښتو یا پنځوسو یا زیات مسافت په مینځ باندي ګرځي او سوداګري کوي او په هیڅ ښارکي دیوي شپي څخه ډیر نه اوسیږي دا سړی په لمانځه او روژه کي دمسافر حکم لري اوکه نه؟

جواب: دغه سړی مسافر دی دسفر احکام به وربانديي جاري کیږي او لمونځ به قصر کوي (٣)

چي مسافر دمقیم امام اقتداء په دریم رکعت کي وکړي نو هغه به لمونځ څنګه ادا کوي؟

سوال: (۲۲۲۳) [١] امام مقیم دی کله چي امام دماپښین یا دماسخوتن دوه رکعته وکړل نو یو مسافر ورسره په دریم رکعت کي ګډ سو نو ایا مسافر به ددوه اخري رکعتو څخه وروسته دامام سره سلام ګرځوي اوکه نور دوه رکعته ډك به کوي بیا به سلام ګرځوي؟

چي مسافر دمقیم امام اقتداء وکړي نو دڅلورو رکعتو نیت به کوي اوکه ددوو؟ سوال: (۲۲۲۴) [٢] امام مقیم دی نو مسافر به ورپسي ددوو رکعتو نیت تړي اوکه دڅلورو؟

جواب: [١] دوه رکعته دي نور هم وکړي. (۴)

[٢] دڅلورو نیت به کوي. (۵) فقط

= بالسفر (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴٣، ط.س. ج٢ ص١٣٢). ظفیر

(١) ولا یزال علی حکم السفر حتی ینوي الإقامة في بلدة او قریة خمسة عشر یوما او اکثر وإن نوی أقل ذلك قصر الخ (هدایه باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٢). ظفیر

(٢) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢٢. ظفیر

(٣) ولایزال علی حکم السفر حتی ینوی الإقامة في بلدة او قریة خمسة عشر یوما او اکثر وان نوی اقل من ذلك قصر الخ ولو دخل مصرا علی عزم ان یخرج غدا او بعد غد ولم ینو مدة الإقامة حتی بقی علی ذلك سنین قصر (هدایه باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٩). ظفیر

(۴) إن إقتدي مسافر بمقیم أتم اربعا (عالمگیري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣٣، ط. ماجدیة ج١ ص١۴٢). ظفیر

(۵) ایضا. ظفیر

ګارډ اوډرایور به قصر کوي اوکه نه؟ سوال: (۲۲۲۵) دریل ګارډي او ډرایور چي سفرونه کوي روزانه ددوه سوه میله مزل څخه وروسته اته ساعته ارام او قیام کوي په هغه کي به قصر لمونځ کوي اوکه داهل اخبیه وو په څیر به پوره لمونځ کوي؟

جواب: ښکاره خبره ده چي ګارډ اونور هغه خلګ چي روزانه سفرونه کوي هغوی به قصر لمونځ کوي، او اهل اخبیه کوچیان هم اتمام هغه وخت کوي چي داقامت نیت وکړي، او ښکاره ده چي ګارډ اوداسي نور خلګ دپنځلسو ورځو داقامت نیت نه کوي ([1]) بخلاف أهل الأخبية نووها في المفازة فانها تصح في الأصح الخ. ([2]) فقط

چي په خپله تجارت په یوه ښار کي کوي او ماشومان یي په بل ښار کي وي نو هلته به لمونځ څنګه ادا کوي؟ سوال: (۲۲۲۶) دیوه سړي په همدي ښارکي دوکان دی او دهغه ماشومان په بل ښارکي اوسیږي چي دهغه ځایه تر دي ښاره تر ۴۸ میله ډیره مسافه ده او دا دوکاندار دماشومانو دخبر اخیستني لپاره کله کله ځي نو آیا هلته به قصر کوي اوکه نه؟

جواب: قصر دي کوي. ([3]) فقط

زید ګرځنده تجارت کوي اوسامان په یوه ځای کي ایږدي لیکن دی هلته دیوي اونۍ څخه زیات نه اوسي نوهغه به **لمونځ پوره کوي اوکه به قصر کوي؟ سوال**: (۲۲۲۷) زید دخپل تجارت سامانونه له خپل وطن څخه سل میله لري وړي دي او هلته یي یوځای په کرایه باندي اخیستی دی او له هغه ځایه سامان وړي او بهر یي په کلو او بانډو باندي خرڅوي، دبهر ځایونو څخه کله اونۍ وروسته کله لس ورځي وروسته خپلي خوني ته راسي دوه دری ورځي تر یوي هفتي پوري هلته قیام وکړي بیا سامان واخلي ولاړسي او هغه خرڅ کړي په لسو اتو ورځوکي بیرته راسي همدا ډول څلور، شپږ ورځي تیري کړي او اصلي وطن ته بیرته راسي نو زید چي په کم ځای کي دتجارت سامان ایږدي هغه یي داقامت وطن جوړیږي اوکه نه؟ او زید لره قصر لمونځ کول ښایي اوکه نه؟

جواب: که یي چیري اول په همدغه ځای کي پنځلس ورځي داقامت نیت کړی وي ([4]) نو په دي صورت کي به دی هلته اوشا اوخوا کلیوکي ترکمه ځایه چي دقصر مسافت نه وي

([1]) ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفير

([2]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٨، ط.س. ج٢ ص١٢٧. ظفير

([3]) لا يزال على حكم السفر حتى ينوى الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفير

([4]) ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر (عالمګيري مصري ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٩). ظفير

لمونځ پوره كوي اوكه چيري يي داقامت په ځاى كي اول هم دپنځلسو ورځو دقيام نيت نه وي كړى نو بيا به برابر قصر كوي. فقط

كم بيړي ترونكي چي په درياب كي اوسيږي هغه به قصر كوي اوكه پوره لمونځ؟ سوال: (٢٢٢٨) دپنجاب خلګ په جمنا او نورو دريابو كي بيړۍ تړي، يعني لرګي، كړى او نور شيان دځنګلونو څخه راوړي په درياب كي غورځوي او نورو ښارونو ته يي ددرياب دلاري رسوي او غالبا نهه مياشتي په همدي سفر كي اوسي، يوځاى لس ورځي يوځاى شل ورځي او يوځاى كم او ډير اوسيږي دهغوى سفر (يون) په درياب كي وي، په لرګو باندي ناست وي او روان وي په كومو ځايوكي چي لرګي تړي هلته يي قيام ډير وي كله ددرياب څخه بهر راووزي او ډوډى يا نورڅه پاخه كړي دهغوى لپاره دلمانځه دكولو څه حكم دى؟ او هغوى ته قصر لمونځ كول په كار دي اوكه نه ؟

جواب: هغوى ته قصر لمونځ كول ښايي كله چي يي سفر دري منزله يا ددې څخه زيات دى او لمونځ ترخپله وسه په خپل وخت باندي كول ښايي اوغوره خبره داده چي لكه څنګه چي دډوډۍ اونورو اړتياوو لپاره غاړي ته راوزي همدا ډول دي دلمانځه لپاره هم كوي. (١) او هغوى ته پر كړو، تختو او نورو شيانو باندي په تللو سره هم لمونځ كول صحيح دي، لكه څرنګه چي په بيړۍ كي جائز دى. (٢) فقط

كم مسافر چي وطن ته درسيدلو وروسته هم په ناپوهي سره قصر كوي نو په هغه باندي او دهغه په مقتديانو باندي اعاده لازمه ده: سوال: (٢٣٢٩) زيد دسفر په حالت كي قصر لمونځ ادا كوى اوس اصلي وطن ته ورسيدى ده له دي كبله چي مسئله ورته معلومه نه وه نو په وطن كي دقيام په مهال يي هم قصر لمونځ كوى كه به يي امامت وكړى نوهم به يي قصر كوى نو په دي صورت كي دامام او مقتديانو لپاره څه حكم دى؟

جواب: په دي صورت كي چي هغه څومره لمونځونه په خپل اصلي وطن كي په قصر سره كړي دي دهغو قضايي دده په ذمه او دهغو خلګو په ذمه ده چا چي په ده پسي لمونځونه كړي دي. (٣)

---

(١) وإن نوى الإقامة أقل من خمسة عشر يوما قصر (عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ص١٣١، ط. ماجدية ج١ ص١٣٩). ظفير

(٢) أما الصلوة في السفينة فالمستحب أن يخرج من السفينة للفريضة إذا قدر وإذا صلى قاعدا في السفينة وهى تجري مع القدرة على القيام تجوز مع الكراهة الخ (عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣۴، ط. ماجدية ج١ ص١۴٣). ظفير

(٣) الوطن الأصلي هو موطن ولادته او تأهله او توطنه يبطله بمثله إذا لم يبق بالأول أهل فلو بقى لم يبطل بل يتم فيهما (درمختار) اى بمجرد الدخول وإن لم ينو إقامة (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴٢ - ٧۴٣، =

مقيم مقتدي به په مسافر امام پسي لمونځ څنګه پوره کوي؟ سوال: (٢٢٣٠) امام مسافر دی او مقتديان مقيم دي او لمونځ څلور رکعته دی کله چي امام دوه رکعته پوره کړل نو هغه سلام وګرځوی اوس مقتديان الحمد ووايي که په پټه خوله دريدلو وروسته رکوع وکړي؟

جواب: کله چي امام مسافر وي نو مقتديان دي پاته لمونځ له قراءت او فاتحي پرته پوره کړي، وصح إقتداء المقيم بالمسافر في الوقت وبعده فاذا قام القيم إلى الإتمام لا يقرء. (١) فقط

کم ځای چي واده وکړي هغه دوطن په حکم کې دی اوکه نه؟ سوال: (٢٢٣١) [١] مثلا دديوبند اوسيدونکی زيد نکاح په اله اباد کي وکړه نو اوس يوازي په نکاح کولو سره به اله اباد دزيد اصلي وطن جوړسي اوکه هلته سکونت غوره کول هم شرط دي، دمراقی الفلاح او درمختار څښتنان يوازي تزوج ليکي او په کبيري او نورو کي دسکونت قيد لګيدلی دی فتوی په کم قول باندي ده؟

چي ښځه دواده څخه وروسته دمور او پلار کورته ولاړه سي او دپنځلسو ورځو څخه دلږو نيت وکړي نو قصر به کوي او که پوره لمونځ؟ سوال: (٢٣٣٢) [٢] دنکاح څخه وروسته چي کله ښځه دخپل خاوند ځای ته ولاړه سي که چيري بيا دمور او پلار کورته ځي اودپنځلسو ورځو څخه دلږ قيام اراده لري نوقصر به کوي اوکه نه؟

دخسرګنۍ کورته ولاړي او لمونځ يې پوره وکړي ددی څه حکم دی؟ سوال: (٢٢٣٣) [٣] که چيري نوموړی زيد دديوبند اوسيدونکی اله اباد ته ولاړ سي اوپوره لمونځ کوي او مقيمينو ته پوره لمونځ ورکوي نو داعادي اړتيا خو به يې نه وي ؟

جواب: [١] شامي ددرمختار ددي قول (تأهله) لاندي دمنيي دشرحي څخه نقل فرمايلی دی: ولو تزوج المسافر ببلد ولم ينو الإقامة به فقيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما وهو الأوجه الخ (٢) ددي څخه معلومه سوه چي يوازي په تزوج يعني واده کولو سره هلته مقيم کيږي همدا اصحه او اوجهه ده يعني چي هلته ولاړ سي نو لمونځ پوره کول ښايي.

[٢] پوره لمونځ دي کوي ځکه چي هغه هم ددي اصلي وطن دی. (٣)

= ط.س. ج٢ ص١٣١). ظفير

(١) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٠، ط.س. ج٢ ص١٣٠. ظفير

(٢) ردالمحتار باب صلوة المسافر مطلب في الوطن الأصلي ووطن الإقامة ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٣١. ظ

(٣) الوطن الأصلي هو موطن الأصلي هو موطن ولادته او تأهله او توطنه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر مطلب في الوطن الأصلى الخ ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٣١). ظفير

[٣] ددي حکم دلومړي جواب څخه معلوم سو چي هغه ته پوره لمونځ کول په کار دي. فقط

دسفر په حالت کي له کومه وخته قصر واجبيږي؟ ايا پوره لمونځ نسي کولای؟ سوال: (٢٢٣۴) دسفر په حالت کي دلمانځه قصر څه وخت واجب ګرځي، او دقصر دواجبوالي په مهال که چيري دثواب لپاره پوره لمونځ ادا کړل سي، نو صحيح دی اوکه نه؟

جواب: کم وخت چي دقصر دمسافت په اراده يعني ددريو منزلو په اراده دښار څخه ووزي او دکلي له ودانيو څخه بهر سي نو له هغه وخته دي دقصر لمونځ پيل کړي. ([١]) اوپه سفر کي پوره لمونځ کول ممنوع دي، يواځي دقصر حکم دی، او کم حکم چي دشريعت دی دهغه پابندی کول ښايي. ([٢])

چي مسافر امام دلومړی قعدي څخه پورته سي او دريم رکعت ورسره يوځای کړي نودمقتدي لمونځ به فاسد سي اوکه نه؟ سوال: (٢٢٣۵) مسافر سړي امامت وکی او دلومړی قعدي وروسته چي هغه دده په حق کي فرض ده ولاړ سو او دريم رکعت يي په سجده باندي مقيد کړی ددي سره دمقيمو مقتديانو لمونځونه فاسد سوه اوکه نه؟ او په درمختار باب المسافر کي ددي قول لم يصر مقيما لاندي ليکي: فلو أتم المقيمون صلوتهم معه فسدت لأنه إقتداء المفترض بالمتنفل ظهيريه. ای إذا قصد متابعته اما لو نووا مفارقته ووافقوه صورة فلا فساد أفاده الخير الرملي ([٣]) وايضا قال صاحب رد المحتار در منح الخالق حاشيه بحر الرائق باب مسافر قال الرملی يجب تقييده بما إذا لم ينووا مفارقته أما إذا نووا مفارقته لا تفسد صلوتهم وإن وافقوه في الإتمام صورة إذ لا مانع من صحة مفارقته بعد إتمام فرضه الخ ج٢ ص١۴٢ بحر الرائق. په دې صورت کي څه حکم دی؟

جواب: دا مسئله همدغه ډول ده لکه څنګه چي په ردالمحتار او بحرالرائق کي منقوله ده، نومړی تقييد ضروري دی. فقط (يعني دپيروي په نيت سره که چيري مقتدي لمونځ پوره کوي نولمونځ به يي فاسد سي. ظفير)

مسافر لره په مقيم امام پسي دخلورو رکعتونو نيت کول ښايي: سوال: (٢٢٣٦) مسافر ته په

([١]) من خرج من عمارة موضع إقامته من جانب خروجه الخ قصدا الخ مسيرة ثلاثة أيام ولياليها من أقصر أيام السنة الخ صلى الفرض الرباعي ركعتين (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١). ظفير

([٢]) صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا لقول ابن عباس إن الله فرض على لسان نبيكم صلوة المقيم اربعا والمسافر ركعتين (درمختار) قوله وجوبا فيكره الإتمام عندنا حتى روى عن ابي حنيفة أنه قال من أتم الصلوة فقد أساء وخالف السنة شرح المنيه (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣۵، ط.س. ج٢ ص١٢٣). ظفير

([٣]) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴١، ط.س. ج٢ ص١٣٠. ظفير

مقيم پسي دماپښين په لمانځه کي دڅلورو رکعتو نيت کول ښايي اوکه ددوو، او کله چي دماپښين په لمانځه کي مقيم ته ددوو رکعتو وروسته قعده کول واجب دي، او مسافر ته فرض دي، نوپه کم دليل دمسافر لمونځ په مقيم پسي کيږي؟

جواب: دڅلورو رکعتو نيت کول ښايي ځکه چي په مسافر باندي هم دمقيم په اقتداء کي څلور رکعته فرض کيږي او اوله قعدهورباندي فرض نه پاته کيږي. (١) فقط

فوجيان به قصر كوي اوكه پوره لمونځ؟ **سوال**: (٢٢٣٧) دلته تقريبا دري سوه سړي اوسيږي او دا ټول دانګريزانو په توپخانه کي نوکران دي، او افسرانو ته هم دا معلومه نه ده چي دلته به څومره موده اوسيږي، نو دمازديګر ماپښين اوماخستن لمونځ به څلور رکعته کوي اوکه دوه رکعته، که چيري ددوو رکعتو حکم وي او څلور رکعته وکړي نو لمونځ کيږي اوکه نه؟

جواب: په داسي حالت کي څلور رکعته کول ښايي ځکه چي که چيري دوه رکعته واجب وي اوڅلور وکړل سي په دي شرط چي منځنی قعده وکړي نو لمونځ کيږي. كذا في كتب الفقه. (٢) فقط

داقامت په وطن کي چي دپنځلسو ورځو نيت وي نو پوره لمونځ دي کوي کنې قصر دي کوي: **سوال**: (٢٢٣٨) دزيد اصلي وطن اله اباد دی او په انباله ښار کي نوکر دی تل په دوره کي اوسيږي په انباله کي يواځي يوې دوې ورځي پاته کيږي او دضلعي ځيني ځايونه له ٣٢ ميله ليري دي او ځيني وخت انبالي ته څيرمه او دهغي په ګاونډ کي ګرځي راګرځي هغه ته لمونځ قصر کول په کار دي اوکه پوره؟

جواب: دزيد اصلي وطن خو به اله اباد وي او انباله يې وطن اقامت دی که چيري هلته دپنځلسو ورځو دقيام نيت وکړي نو پوره لمونځ به کوي که نه وي قصر به کوي (٣) اوکه يې په انباله کي دپنځلسو ورځو دقيام نيت وکړی او هلته يې لمونځ پوره وکړی نو بيا چي کله دانبالي په ګاونډ کي تر ۴٨ ميله دسفر اراده ولري قصر به کوي که نه وي پوره لمونځ به کوي. (۴) فقط

---

(١) وإن إقتدى المسافر بالمقيم في الوقت أتم اربعا لأنه يتغير فرضه إلى أربع للتبعية (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٩). ظفير

(٢) لأنه إجتمع في هذه الصلوة ما يوجب الاربع وما يمنع فرجحنا ما يوجب الأربع إحتياطا (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢٢) فلو أتم مسافر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه الخ وما زاد نفل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٩، ط.س. ج٢ ص١٢٨). ظفير

(٣) او ينوي إقامة نصف شهر حقيقة او حكما الخ بوضع واحد صالح لها الخ فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منه اى من نصف شهر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢،ط.س. ج٢ ص١٢٥). ظفير =

<u>که مسافر سهوا دڅلورو رکعتو نیت وکړي نوڅو رکعته به کوي؟</u> سوال: (٢٢٣٩) [١] مسافر سهوا دڅلورو رکعتو نیت وتړی نو دوه رکعته وکړي اوکه څلور، او سجده سهوه وکړي که نه؟

<u>مسافر امام مقيم وګڼي او اقتداء يې ورپسي وکړه نوڅه به کوي؟</u> سوال: (٢٢٤٠) [٤] يوه مسافر امام مقيم وګڼي او اقتداء يي ورپسي وکړه دسلام ګرځولو وروسته معلومه سوه چي امام مسافر وو، اوس هغه دامام سره سلام وګرځوي اوکه څلور رکعته پوره کړي؟

جواب: [١] هغه دي هم دوه رکعته وکړي، او سجده سهوه دي نه کوي. (١)

[٢] دامام سره دي سلام وګرځوي. (٢) فقط

<u>هغه ګارډ چي له کالکا څخه شملي ته ځي هغه به قصر کوي او که نه؟</u> سوال: (٢٢٤١) يو سړی په ريل کي ګارډ دی هره ورځ له کالګا نومي ځای څخه شملي ته په ګاډي کي ځي شپيته ميله فاصله ده، نوهغه ته لمونځ پوره کول ښايي اوکه قصر؟ که قصر ورته ښايي نو ددي څخه مخکي چي يې کم پوره لمونځونه کړي دي هغه وسوه اوکه نه؟ ددينه علاوه دسفر په دوران کي سنت کول ګران دي له ريل څخه دکښته کيدو په مهال يواځي فرض ادا کوي؟ ټول څلور دقيقي مهلت وي او دريل په مينځ کي دلمانځه ځای اوګنجايش نسته او داسړی به په شمله او کالکا دواړو ځايونو کي مسافر ګرځول کيږي اوکه څنګه؟

جواب: په دي صورت کي لمونځ مسافرانه "قصر" کول ښايي (٣) اوکه چيري مخکي يي پوره لمونځونه کړي وي او مينځني قعده يي کړي وي نو هغه لمونځونه وسوه دبيا راګرځولو اړتيا نسته (٤) او دسنتو قضا هم نسته (٥) اوپه کالکا او شمله دواړو ځايونوکي به هغه مسافر ګڼل کيږي. فقط

---

(٤) ويبطل وطن الإقامة بمثله وبالوطن الأصلي وبانشاء السفر الخ (ايضا ج١ ص٧٤٣، ط.س. ج٢ ص١٢٩). ظ

(١) صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا لقول ابن عباس ﷺ إن فرض على لسان نبيكم صلوة المقيم اربعا و للمسافر ركعتين (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٥، ط.س. ج٢ ص١٢٣) پاته سوه په نيت کي دشمېر غلطي نوددې هيڅ اعتبار نسته: لا بد من التعيين عند النية الخ لفرض الخ دون تعيين عدد ركعاته لحصولها ضمنا فلا يضر الخطأ في عددها (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة مطلب في النية ج١ ص٣٨٨ - ٣٩٠، ط.س. ج١ ص٤١٨). ظفير

(٢) ايضا. ظفير

(٣) ولايزال على حكم السفرحتى ينوي الإقامة في بلدة اوقرية خمسة عشر يوما اواكثر وإن نوى أقل من ذلك قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفير

(٤) فإن صلى اربعة وقعد في الأية قدرالتشهد اخرته والأخريان نافلة ويصير مسيئا لتاخير السلام (عالمګيري كشوري صلوة المسافر ج١ ص١٣٧، ط. ماجدية ج١ ص١٤١). ظفير

(٥) ولا يقضيهما إلا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لا بعده الخ بخلاف سنة الظهر وكذا الجمعة فإنه =

چي دري منزله سفر وي نو قصر دي كوي: **سوال**: (۲۲۴۲) كه يو سړى تل په بحري سفر كي اوسي يا دجهاز نوكري كوي ياپه مياشت كي لس ورځي په جهازكي سفر كوي او لس پنځلس ورځي په خپل كوركي وي نو هغه به لمونځ قصر كوي اوكه پوره؟

جواب: په كمه زمانه كي چي په سفركي اوسي او په جهاز كي سفر كوي په دي شرط چي سفر ددريو منزلو وي نو هغه به قصركوي ([1]) اوكم وخت چي خپل وطن ته ورسيږي اوپه خپل وطن كي اوسي نو په هغو ورځوكي دي لمونځ پوره كوي ([2]). فقط

چي شپه يې دقيام په ځاى كي تيريږي او دورځې چكر لګوي نوڅه حكم دى؟ سوال: (۲۲۴۳) يو سړى درخصت څخه وروسته راغى او په يوه داسي ځاى كي وټاكل سو چي له هغه ځايه روزانه دري څلور ميله تلل كوي ليكن دشپي خپل استوګنځي ته راځي دغه سړى مسافر دى او كه مقيم؟

جواب: كه چيري دي سړي په خپل استوګنځي كي لومړى دپنځلسو ورځو داوسيدلو نيت كړى وو نو هغه مقيم سو بيا كه دورځي دوه دري ميله يوځاى ته تګ را تګ كوي نو په دي سره هغه نه مسافر كيږي، هغه لره لمونځ پوره كول ښايي اوكه چيري بل ځاى ته بدل سي نوهلته به هم همدا حكم وي. ([3])

دجهاز كم نوكرته چي معلومه نه وي چي په كم ځاى كي به څومره وخت اوسيدل وي هغه دي قصر كوي: **سوال**: (۲۲۴۴) زه په مال نومي جهاز كي نوكر يم جهاز تل په ليري ليري ملكونو كي ګرځيدل كوي كله په يوه ځاى كي لس پنځلس ورځي، مياشت دوې مياشتي ولاړ اوسي ديوه ځايه بل ټاكل سوي ځاى ته ځي او موږ ته شپږ اوه ، يا نهه لس مياشتي يا يوكال وروسته كور ته دتللو موقع په لاس راځي نوموږ ته په داسي حالت كي لمونځ قصر كول ښايي اوكه پوره؟

= إن خاف فوت ركعة يتركها ويقتدي ثم يأتي بها على أنها سنة في وقتها اى الظهر (درمختار) فلا تقضي بعده لا تبعا ولا مقصودا الخ (رد المحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٧٢، ط.س. ج٢ ص٥٧). ظفير

([1]) ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر أو أكثر وإن نوى أقل من ذلك قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٩). ظفير

([2]) الوطن الأصلي الخ يبطل بمثله إذا لم يبق له بالأول أهل فلو بقى لم يبطل بل فيهما (درمختار) اى بمجرد الدخول وإن لم ينو إقامة (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴٢ – ٧۴٣، ط.س. ج٢ ص١٢٨). ظفير

([3]) وإن دخل اولا ما نوى البيت فيه يصير فيه مقيما ثم بالخروج إلى الموضع الآخر لا يصير مسافرا لأن موضع إقامة الرجل حيث يبيت فيه (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٨، ط.س. ج٢ ص١٢٨) او ينوي الخ إقامة نصف شهر الخ موضع واحد الخ فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢٥). ظفير

جواب: په دي صورت كي تر څو چي خپل وطن ته رسيدلي نه يې په ټوله موده كي لمونځ قصر كول ښايي اوكله چي وطن ته ورسيدى نو هغه مهال به لمونځ پوره كوى. اوكم جهاز چي ديوه ټاكل سوي ځاي څخه بل ټاكل سوي ځاى ته ځي دهغه دملازم هم همدا حكم دى. چي تل دي دسفر په حالت كي لمونځ قصر كوي. (١)

يوسړى له دهغه لاري ولاړى چي قصر ورباندي كيږي او بيرته په هغه لاره راستون سو چي نه ورباندي كيږي نوپه بيرته راستنيدلو كي به قصر كوي اوكه نه؟ **سوال**: (٢٢٤٥) ديوه كلي دوې لاري دي كه چيري په ريل كي ځي نو قصر لازميږي اوپه پياده نژدي لاره باندي په تللو سره پوره لمونځ كيږي دي كلي ته يو سړى په ريل كي ولاړى او يو څو ورځي هلته واوسيدى قصر لمونځ يي كوى دبيرته راتلو په مهال پرپياده لاره باندي راغى نوكورته تر رسيدلو پوري به قصر كوي اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي به دبيرته راستنيدلو په مهال هم قصر كوي ترڅو پوري چي خپل وطن ته نه وي را رسيدلى، ځكه چي په دي كلي كي ده دپنځلسو ورځو دقيام نيت نه وو كړى، اودغه كلى يي تر دي وخته داقامت وطن نه وو جوړ سوى. (٢)

دلس ميله تتلو وروسته يي دسفر نيت فسخ كړي نو اوس څه وكړي؟ **سوال**: (٢٢٤٦) زيد په سفر روان سو، دلس ميله تللو وروسته يي دسفر نيت فسخ كړى او وطن ته را واپس سو نو په واپسى كي به لمونځ قصر كوي اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي دي لمونځ پوره وكړي په عالمگيري كي دي: أما إذا لم يسر ثلثة أيام فعزم على الرجوع او نوى الإقامة يصير مقيما (٣) وإن كان في المفازة. فقط

هغه مسافر چي نه مني دهغه څه حكم دى؟ **سوال**: (٢٢٤٧) زيد په سفركي دقصر معتقد نه دى يا معتقد خو دى ليكن قصر نه كوي په دواړوصورتونو كي څه حكم دى؟

جواب: شرعي سفر كوونكي مسافر ته قصر كول واجب دي څوك چي دقصر اعتقاد نه لري اويا يي نه كوي هغه عاصي او مبتدع دى او واجب پرېښودونكى دى كما بسط في الأحاديث، وتفصيله في كتب الفقه. (٤) فقط

---

(١) اودخل بلدة ولم ينوها اى مدة الإقامة بل ترقب السفر غدا اوبعده ولو بقى ذلك سنين (درمختار) قوله ولم ينوها وكذا إذا نوها وهو مترقب السفر كما في البحر لأن حالته تناف عزيمته (رد المحتار باب صلاة المسافر ج١ ص٧٣٨، ط.س. ج٢ ص١٢٢). ظفير

(٢) ولو لموضع طريقان احدهما مدة السفر والآخر أقل قصر في الأول لا الثاني الخ حتى يدخل موضع مقامه الخ او ينوى الخ إقامة نصف شهر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٥ – ٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢٣). ظفير

(٣) عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٩. ظفير

په سفر کي دمنزل إعتبار دی اوکه دفرسخ؟ **سوال**: (٢٢٤٨) قال في الهداية ولا عبرة بالفراسخ وهو الصحيح ([1]) آه وفي الدرالمختار: ولا إعتبار على فراسخ على المذهب ([2]) إنتهى وفي حاشية الهداية قوله هو الصحيح إحتراز عن قول عامة المشائخ لانه قدروه بالفراسخ ثم اختلفوا فيما بينهم فقيل أحد وعشرون فرسخا وقيل ثمانية عشر وقيل خمسة عشر والفتوى على ثمانية عشر كذا في المحيط ([3]) إنتهى، او دما لابد منه په حاشيه کي داسي دي چي په حنفي مذهب کي دميلونو او فرسخونو اعتبار نسته، او په عالمگيري کي دهدايي څخه راوړي دي: ولا تغير بالفراسخ او اته څلويښت ميله چي مصنف غوره کړي دي، دامام شافعي رحمه الله مذهب دی، کله چي داحنافو په نزد دميل او فرسخ اعتبار نسته نو دجهاز په سفرکي به په کم ډول قصر لمونځ کوو؟

جواب: اصل مذهب له شکه پرته دادی چي دمنازلو اعتباردی، يعني ددريو ورځو مسافه معتبره ده، ليکن ۴۸ ميله هم دري منزله کيږي، څکه نومعمول به همدا وی، او په مالا بد منه کي هم همدا اخبره غوره کړل سويده. ([4]) او ددرياب په سفرکي دکشتۍ او دجهاز مسافت ته اعتبار دی، يعني په دريو ورځوکي چي څومره مسافت دهوا داعتدال په مهال قطع کيږي په هغه مسافت کي دقصر حکم دی. ([5])

دخسر کور اصلي وطن دی: **سوال**: (٢٢٤٩) يو سړی دخپله اصلي وطنه ليري ځای ته چي دقصر مسافت لري دنکاح په تکل روان سو ښځه يي په نکاح کړه او خپل اصلي وطن ته يي راوړه او هغه ښځه دنکاح څخه وروسته دميړه په کورکي تقريبا شل کاله پاته سوه، مگر دپلار کور يې په زاړه ځای کي دی په دي صورت کي که دهغي ميړه کله کله دخسر کور يا دهغه گاونډ ته دسفر اراده وکړي نو هلته به قصر کوي اوکه پوره لمونځ؟ ايا هغه يي وطن اصلي دی؟

جواب: کله چي هغه سړی چي په بل وطن کي يي نکاح کړي خپله ميرمن خپل اصلي وطن ته راولي اوپه خپله دميرمني داوسيدلو او پاييدلو په ځای کي اقامت ونه کړي او مستقر نه سي او نه يي ميرمن هلته پريږدي نو هغه ښار دده وطن نه سو، نو يوازي په

([4]) والقصر عندنا واجب كذا في الخلاصة (عالمگري صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط.س. ط. ماجدية ج١ ص١٣٩. ظ

([1]) هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٨. ظفير

([2]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٥، ط.س. ج٢ ص١٢٣. ظفير

([3]) حاشيه هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٨. ظفير

([4]) مگر وقتيكه قصد كنند دفعتا واحدة سفر چهل وهشت كرده را (مالا بد منه فصل نماز مسافر ص٧۵). ظفير

([5]) وإنما يعتبر في كل موضع منهما ما يليق بحاله (عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٨). ظفير

ورتلو سره هلته مقيم نه گرځي او دلمانځه پوره كول نه وربانديٍ لازميږي، بلكه قصر به كوي كذا يظهر من كتب الفقه. او فقهاء چي دنكاح ځاى وطن بللى دهغوى مراد دادى چي ښځه دده هلته مقيمه وي او كله چي يي ښځه هلته مقيمه نه وي او په خپله هم هلته نه اوسيږي بلكي ښځه يي خپل وطن ته راوستلي وي، نو يوائي دخسر اقامت او دهغه دكور سته والى په هغه ځاى كي ددي سبب نه سي كيداى چي هغه ځاى ته دي دزوم اصلي وطن وويل سي، ولوكان له ببلدتين فأيتها دخل صار مقيما فان ماتت زوجته في إحداهما وبقى له فيها دور وعقار قيل لا يبقى وطنا له إذ المعتبر الأهل دون الدار الخ (١) او همدا راز چيري چي اشتباه وي چي قصر وكړم اوكه نه هلته پوره لمونځ كول احوط دي، قال في الشامي في موقع الإشتباه لأنه إجتمع في هذه الصلوة ما يوجب الأربع ومايمنع فرجحنا ما يوجب الأربع احتياطا (٢). او ښكاره ده چي داختلاف په صورت كي احتياط دلمانځه په پوره كيدلو كي دى نه په قصر كي. فقط

كه چا داصلي وطن په يوه ښار كي اقامت وكړي بيا په بيړى يا الوتكه كي نوكر سو نوځه به كوي؟ سوال: (٢٢٥٠) [١] ځيني پيلوټان او بيړى چلوونكي دخپل اصلي وطن څخه راسي په يوه ښار يا كلي كي لومړى داقامت په نيت يوځاى مقيم سي بيا دځو ورځو پلټني او زيار څخه وروسته په يوه الوتكه يا بيړى كي نوكر سي او ځيني خلك بي له نيته داقامت ايسار سي بيا وروسته ملازم سى او په خپل كار كي مصروف سي په دي حالاتو كي به په هغوى باندي قصر واجب وي اوكه نه؟

په كم ځاى كى چي جهاز دوه يا درې مياشتي تم سي هلته دهغه عمله داقامت په نيت كولو سره مقيمين گرځي اوكه نه؟ سوال: (٢٢٥١) [٢] ځيني تجارتي جهازونه دليري ليري هيوادونو څخه راسي اوپه يوه بندرگاه كي تر دوو دريو مياشتو پوري تم سي دهغه عمله چي دنورو هيوادونو اوسيدونكي دي، داقامت په نيت سره مقيمين جوړيږي اوكه نه؟

دمال بوټ نوكران مقيم نه دي: سوال: (٢٢٥٢) [٣] ځينى مال بوټونه ډيرى دبندرگاوو په پلونو باندي دمالونو دگودام په ډول تړلي اوسي، دهغه كار كوونكي چي دنورو ملكونو اوسيدونكي دي او تل په دي كي اوسي. هغوى ته به مقيم ويل كيږي اوكه مسافر؟

جواب: [١] هغه خلك چي دليري ليري مسافت څخه راغلي دي او په هيڅ ځاى كي هغوى دپنځلسو ورځو داقامت نيت نه ده كړى، او بيا دجهاز او بيړى ملازمان سول او سفرونه يي كول يالږ يا ډير هغوى به هميشه مسافر اوسي اوقصر به كوي، بعدم علة

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٣١. ظفير
(٢) ردالمحتار باب صلوة المسافر تحت قوله قاصدا ج١ ص٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢٢. ظفير

الإتمام، اوكم خلك چي چيري مقيم وه يادبهر څخه راغلل اومقيم سول اوبيا دري ورځي دسفر په اراده ونه وتل هغوی به پوره لمونځ کوي قصر به نه کوي. (١)

په شامي كي دي: والملاح مسافر الخ وسفينته أيضا ليست بوطن آهـ بحر. وظاهره ولو كان ماله واهله معه فيها ثم رأيته صريحا في المعراج، (٢) نومعلومه سوه چي داكار كوونكي به مقيم نه وي، مسافر به اوسي او لمونځونه به قصر كوي.

[٣] مسافر به اوسي كما مرَّ. فقط

دڅو منزلو سفر شرعي بلل کيږي؟ سوال: (٢٢٥٣) يو منزل دڅوميلونو وي؟

جواب: دفقهي په كتابونو كي يي ليكلي دي چي شرعي سفر ددريو منزلونو وي، او صحيح داده چي دميلونو اعتبار نه دی بلكه دمنزلونو اعتبار دی او ځينو فقهاؤ دميلونو اعتبار کړی دي، په دي كي درې قوله دي يو منزل يې ٢١ يا ١٨ يا ١٥ ميله ليكلي دي، او فتهوی په اتلسو ميلو باندي ده او دځينو په وړاندي فتوی په پنځلسو ميلونو باندي ده. (٣) فقط

دشرعي سفر په اراده وتونكي دي دوتلو سره سمدستي قصر شروع کړي: **سوال**: (٢٢٥۴) يوه سړي بمبۍ ته دتلو اراده وکړه او اراده يي له كور څخه همدا ده چي زه به شپږ مياشتي هلته تيروم نو اوس به داسړی قصر كوي اوكه نه؟

جواب: په لاره كي به دا سړی قصر كوي ځكه چي داسړی دشرعي سفر په اراده دكور څخه وتلی دی ځكه نو علت دقصر وموندل سو نور نو كله چي بمبۍ ته ورسيږي او هلته دهغه نيت دشپږو مياشتو دقيام وي نو هلته به لمونځ پورده كوي، كما في الدر المختار من خرج من عمارة موضع إقامته الخ قاصدا سيرة ثلاثة أيام ولياليها الخ صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا الخ حتى يدخل موضع إقامة إن سار مدى السفر. الخ (۴) فقط

---

(١) ولابد للمسافر من قصد مسافة مقدرة بثلاثة أيام حتى يترخص برخصة المسافرين وإلا لا يترخص ابدا ولو طاف الدنيا جميعها الخ ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر (عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٩). ظفير

(٢) رد المحتار باب صلوة المسافر تحت قوله كبحر ج١ ص٧٣٧، ط.س. ج٢ ص١٢٢). ظفير

(٣) اعلم ان أقل مدة السفر عندنا مسافة ثلثة أيام من أقصر أيام السنة بالسير الوسط وهى مشي الأقدام والإبل في البر واعتدال الريح في البحر الخ وصحح صاحب الهداية أنه لا يعتبر التقدير بالفراسخ لكن قال المرغيناني وعامة المشائخ قدرها بالفراسخ فقيل أحد وعشرون فرسخا وقيل ثمانية عشر فرسخا قال المرغيناني وعليه الفتوى وقال العتابي في جوامع الفقه وهو المختار ر وقيل خمسة عشر فرسخا الخ (غنية المستملي صلوة المسافر في المدة ص۴٩٧). ظفير

(۴) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢ – ٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢١. ظفير

دسفر څخه په راستنيدو کي دکور څخه په بيل بازار کي قيام وکړي نودي مسافر دی اوکه نه؟ **سوال:** (٢٢٥٥) يو سړی دمسافرۍ څخه خپل وطن ته راغی دخپل کور څخه په نيم ميل فاصله کي په يوه بازار کي دخياطي کار کوي او کله کله دوه څلور شپي هلته اوسيږي دغه سړی به قصر لمونځ کوي اوکه نه؟

جواب: په کم بازار او ښارګوټي کي چي دی اوسيږي دهغه خروج او دخول دلمانځه په قصر اونه قصر کي اعتبار لري، نوکم ښار چي دنوموړي کلي څخه منفصل دی، لکه څنګه چي دبنګال په علاقوکي اوريدل کيږي چي هلته دخروج او دخول اعتبار نسته نو دا سړی چي ترڅو پوري په خپل کلي او ودانيوکي نه وي ننوتی، تر هغه وخته پوري به قصر کوي قال في الشامي: وأما الفناء فهو المكان المعد لمصالح البلد كركض الدواب ودفن الموتى والقاء التراب فإن إتصل بالمصر اعتبر مجاورته وإن إنفصل بفلوة او مزرعة فلا. كما يأتي. (١) فقط

پلار دزوي په کورکي او زوی دپلار په کور کي مسافر دی اوکه مقيم؟ **سوال:** (٢٢٥٦) [١] يو سړی دخپل پلار داستوګني دځای څخه په پوره ليري فاصله کي اوسيږي که چيري زوی دپلار داستوګني ځای ته يا پلار دزوی داستوګني ځای ته ولاړ سي نو قصر به کوي اوکه نه؟

په کم ځای کي چي مځکه اوجايداد دی هلته به لمونځ قصر کوي اوکه پوره؟ **سوال:** (٢٢٥٧) [٢] ديوه سړي او دهغه دپلار او ورونو جايداد او مکانونه په يوه کلي کي دي مځکي دهغو دڅښتنانو استوګنه هم په همدي کلي کي وه اوس دڅه مودي راهيسي يي بل ځای ته نقل کړی دی په هغوی کي يو کس درسد په مهال هلته ولاړ سي، حاصلات وصول کړي او ورسره رايي وړي نوکم سړی چي هلته ځي هغه قصر کولای سي اوکه نه؟

جواب: [١] کله چي اصلي وطن دهر يوه جدا جدا سوی دی نو په دوی کي هر يو دبل وطن ته په تللو سره مقيم نه ګرځي، بلکه قصر لمونځ به کوي. (٢)

---

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر تحت قوله: من خرج من عمارة موضع إقامته ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١. ظفير

(٢) والوطن الأصلي هو موطن ولادته او تأهله او توطنه يبطل بمثله إذا لم يبق له بالأول أهل (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٢٨) ولو كان له اهل ببلدتين فأيهما دخل صار مقيما فإن ماتت زوجته في إحداهما وبقى له فيها دور وعقار قيل لا يبقى وطنا له إذا المعتبر الأهل دون الدار (رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٢٨) الوطن الأصلي الخ يبطله بمثله إذا لم يبق له بالأول أهل (درمختار) اى وإن بقى له فيه عقار الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٢٠. ظفير

[٢] کـه يـي هلتـه دپنځلسو ورځو څخـه دلږ اوسيدلو اراده وي نو قصر بـه کـوي اوکـه دپنځلسو ورځو ياډير پاته کيدلو له ارادی سره هلتـه ولاړ سي نو پـوره لمونځ بـه کـوي، اوکه پخه اراده ونه لري بلکي دا اراده يي وي چي پـه څلور پنځـه ورځـي کـي بـه بيرتـه ستون سم يا چي کله حاصلات را غونډ کړم ولاړ بـه سم نو برابر بـه قصر کوي، اګرکـه دارادي پرته تر ډيرو ورځو وځنډيږي. (١)

په شرعي سفرکي دقصر په ترک کولو سره څوک ګنهګاريږي اوکه نه؟ **سوال**: (٢٢٥٨) هغـه سړی چي په سفرکي قصر نه کوي نو ګنهګار به سي اوکـه نـه؟ کـه ګناهګـار وي نـو ولـي، ايا ددي ايات اطلاق پرهغه باندي کيدای سي اوکه نه؟ (ومن تطوع خيرا فهو خير له).

جواب: دامام صاحب مذهب دادی چي پـه شـرعي سفرکي قصـر واجب دی قصدا پـوره لمونځ کول ممنوع دي (٢) ځکه چي دا له حدود الله څخه تجاوز دی، ومن يتعد حدود الله فاولئك هم الظالمون (٣) او داپه من تطوع خيرا کي داخل نـه دی ځکـه چي دشارع عليـه السلام دحکم څخه خلاف ورزي کول خيرنه دي بلکه هغه شردي.

سړی به دخسر په کورکي مقيم وي اوکه نه؟ **سوال**: (٢٢٥٩) [١] دزيد نکاح پـه سـهارنپور کي وسوه چي هغه دده دوطن څخه سل ميله ليري ده زيد خپله منکوحه وطن ته راوستله کـه چيـري زيـد پـه داسـي صـورت کـي سـهارنپور تـه ولاړ سـي چـي دهغـه ښـځه پـه سهارنپورکي نه وي نو زيد به مقيم وي اوکه مسافر؟

سوال: (٢٢٦٠) [٢] که دزيد منکوحه مړه سي نوهغه به سهارنپور تـه پـه تللـو سـره مقيم وي اوکه مسافر؟

سوال: (٢٢٦١) [٣] زيد داله اباد اوسيدونکی دی او هنده دسهارنپور اوسيدونکي ده دواړه په سفر باندي مراد اباد ته ورسيدل هلتـه ددواړو نکاح وسوه نـو زيد بـه پـه مراد اباد کي مقيم وي اوکه مسافر؟

جواب: [١] په درمختار کي دي: ولو کان له اهـل ببلدتين فأيتهما دخلها صار مقيما فإن

(١) ولا يـزال على حکم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قريـة خمسة عشر يوما او اکثـر (عـالمگيري ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج٢ ص١٣٩) او ينوي الـخ إقامة نصف شـهر الـخ بموضـع واحد صـالح لهـا فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منه اى من نصف شهر الخ او دخل بلدة ولم ينوها اى مدة الإقامة بل ترقب السفر غدا او بعده ولوبقي ذلك سنين (الدرالمختار على هامش ردالمحتارباب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢،ط.س. ج٢ ص١٢٥). ظ

(٢) صلى الفرض الرباعي رکعتـين وجوبا الـخ والإکمال لـيس رخصة في حقه بل إساءة (درمختـار) قولـه وجوبـا فيکره الإمام عندنا حتى روى عن أبي حنيفة أنه قال من أتم الصلوة فقد أساء وخالف السنة (رد المحتـار بـاب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٥، ط.س. ج٢ ص١٢٣). ظفير

(٣) سورة البقرة رکوع : ٢٩. ظفير

ماتت زوجته في أحداهما وبقى له فيها دور وعقار قيل لا يبقى وطنا له إذا المعتبر الأهل دون الدار كما لو تأهل ببلدة او استقرت سكنا له وليس له فيها دار وقيل تبقى الخ (١) ددي څخه ددوهمي پوښتني ځواب ښکاره سو، چي دښځي دمرګ څخه وروسته به سهارنپور دده اصلي وطن پاته نه سي خصوصا په هغه صورت کي چي هلته دده کور اوزمکه هم نه وي، ځکه اختلاف ددار او عقار دباقي کيدو په صورت کي دی او په هغه مهال کي اتمام احوط دی. او په لومړی سوال کي کله چي دهغه ښځه هلته نسته نو ښکاره ده چي هلته په تللو سره به مقيم نه وي او په دريم سوال کي به هم مراد اباد دهغه وطن نه وي. په دي کي خو څه شبهه نسته شبهه يوازي دمنيي دشرحی (٢) درو ايت سره سم دلومړی پوښتني په هکله ده، ليکن فقهاؤ دا قاعدد هم ليکلي ده چي په کم ځای کي شبهه وي هلته دي پوره لمونځ وي ځکه چي په دي کي احتياط دی لکه څنګه چي په شامي کي دشبهي په ځای کي ليکلي دي: لأنه إجتمع في هذه الصلوة ما يوجب الأوبع وما يمنع فرجحنا ما يوجب الأربع إحتياطا الخ شامی. (٣) فقط

اول اصلي وطن داصلي وطن حکم لري اوکه نه؟ سوال: (٢٢٢٢) ديوه سړي ځمکه او کور دجالندهر په ضلعه کي دي او اوس هغه سره له ميرمني اوماشومانو وروسته ددي چي ځمکه په لاس ورغله لائلپور ضلعي ته ولاړی او هلته يي استوګنه غوره کړه له دي امله چي په جالندهر ضلعه کي هم دهغه کورونه او زمکي سته ځکه نوهغه په شپږ مياشتي کي دهغو دسمبالولو لپاره هرومرو راځي، آيا داسړی چي دلته راسي لمونځ به پوره کوي؟

جواب: په دي کي ډيره احوطه اوسمه خبره داده چي اولنی وطن يي هم وطن اصلي دی هلته دي لمونځ پوره کوي لکه څنګه چي دځينو فقهاوو داقوالو څخه دي ته ترجيح معلومېږي اوبل دهغي قاعدي له مخي چي علامه شامي دامام ابويوسف (رحمه الله) دقول په ترجيح کي ذکر کړي ده چي په کم ځای کي په قصر او اتمام کي اشتباه وي نو هلته اتمام ته ترجيح وي. ځکه چي احتياط په همدي کي دی، هغه عبارت دادی چي دمسافر دلمانځه په پيل کي علامه نقل کړی دی: كما في التجنيس إذا إفتتح الصلوة في السفينة حال إقامته في طرف البحر فنقلتها الريح ونوى السفر يتم صلوة المقيم عند ابي

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٢٨. ظفير

(٢) دمنيي دشرحي هغه روايت دا دی قال في شرح المنية ولو تزوج المسافر ببلد ولم ينو الإقامة به قيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما هو الأوجه (رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٢٨). ظفير

(٣) ردالمحتار باب صلوة المسافر تحت قوله قاصدا ج١ص٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢٢. ظفير

يوسف (رحمه الله) خلافا لمحمد لأنه إجتمع في هذه الصلوة ما يوجب الأربع وما يمنع فرجحنا ما يوجب الأربع إحتياطا (١) الخ شامي.

دخپلې سیمې څخه په وتلو سره دې قصر شروع کړي که څه هم له هغه ځای څخه يې خپله سیمه ښکاري؟ سوال: (۲۲۲۳) په دې ملك کې ودانۍ پیوست دي په هغوکې باغونه وي دپیوستوالي سره سره دځایونو نومونه بیل بیل وي که یو سړی دسفر په اراده دخپلو ودانیو څخه ووزي او بل کلي ته تر رسیدلو وروسته دلمانځه وخت راسي او له هغه ځای څخه ورته خپل کلی په نظر راځي نو دا مسافر به قصرکوي اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې به دا سړی قصر کوي ځکه چې دقصر لپاره دخپل کلي څخه وتل شرط دي ودانۍ په نظر راتلل دقصر مخه نه نیسي، كما في الدرالمختار من خرج من عمارة موضع إقامته من جهة خروجه وإن لم يجاوز من الجانب الآخر. الخ (٢). فقط

مخکې يې دقیام نیت کړی وو بیا يې نیت بدل سو نو قصر به کوي: سوال: (۲۲۲۴) زید مسافر په ښارګوټي کې دپنځلسو ورځو دقیام نیت وکړی او دماپښين څلور رکعته دجمعې لمونځ يې ورکړی خو په مازدیګر کې يې دپنځلسو ورځو دقیام نیت فسخ کړی او څلور رکعتي لمونځونه يې دوه رکعته کول او ورکول شروع کړل نو دا امامت اولمونځونه صحیح سول اوکه نه؟ مسافر ته دقیام دنیت کولو وروسته دخپل نیت په فسخ کولو باندې پوره لمونځ کول پکار دي که قصر؟

جواب: زید ته اول دقیام په نیت باندې پوره لمونځ کول او دقیام دنیت دفسخه کولو وروسته قصر کول ښايي. (٣) فقط

دسفر په اراده سره چې دشاوخوا مختلفو کلو په لارو کې دومره وګرځي را وګرځي چې دهغو مجموعي مسافت شرعي مسافت ته ورسیږي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۲۲۵) یو سړی دسفر په اراده ووزي او دهغه سفر په کلو اوبانډو کې دی او یو کلي له بله څخه دومره لیرې نه دی چې دلمانځه دقصر حکم وربانديې وکول سي مثلاً ځینې کلي دځینو نورو څخه دنهو میلو په فاصله کې پراته دي او ځینې دنورو څخه په یوولس میله کې او ځینې په اته کې اوځینې په شپاړس کې مثلاً، لیکن په دې کلیوکې دهغه دوره ددریو ورځو تر

---

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر تحت قوله قاصدا ج١ ص٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢٢. ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١. ظفير

(٣) ولا يزال على حكم السفر حتى نوي الإقامة في بلدة خمسة عشر يوما او اكثر وإن نوى أقل من ذلك قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩) ولو كان مسافرا في أول الوقت إن صلى صلوة السفر ثم أقام في الوقت لا يتغير فرضة وإن لم يصل حتى أقام في اخر الوقت يقلب فرضه اربعا وإن لم يبق من الوقت إلا قدر ما يسع فيه بعض الصلوة (عالمگيري مصري صلوة المسافر ج١ ص١٣٢، ط. ماجدية ج١ ص١٤١). ظفير

مزل ډيريږي په دي صورت کي په هغه باندي قصر واجب دی اوکه نه؟

جواب: کله چي دذکر سوي سړي اراده دسفر دپاره دوتلو په مهالل دټولو ذکر سوو کليو دوره ده چي دهغو مسافت دري ورځي يا ددیو ورځو څخه ډيريږي نو قصر پرهغه باندي واجب دی، من خرج من عمارة موضع إقامة الخ قاصدا مسيرة ثلاثة أيام ولياليها الخ (١).

په شرعي سفرکي دی قصر کوي اگرکه په لږه لږه فاصله کي قيام راسي: **سوال**: (٢٢٢٦) [١] زه دماراوور دعلاقي مسافر يم او احمد اباد علاقي ته دڅلورو پنځو مياشتو په ارادي سره ځم خو دڅه کار له امله هره ورځ په ميل دوه ميله کي قيام کوم مثلا نن دلته صبا په بل يوه ځای کي، ددوو دريو ميلو په فاصله باندي قيام کيږي نو په دي صورت کي قصر کول ښايي اوکه نه؟

که په ځنگل کي ديوي مياشتي په اراده قيام کوي نوهم به قصر کوي: **سوال**: (٢٢٢٧) [٢] يو مسافر دباندي په ځنګل کي ديوي پوره مياشتي په اراده سره مقيم سو نو قصر به کوي او که پوره لمونځ؟

جواب: [١] په دي صورت کي لمونځ قصر کول ښايي. (٢)

[٢] په ځنګل کي مقيم کيږي نه ځکه نوهغه ته قصر لمونځ کول په کار دي. (٣) فقط

په سفر کي وتر معاف نه دي اوسنت کول هم ثابت دي: **سوال**: (٢٢٢٨) يو سړی دعوه کوي چي دمسافر لپاره سنت او وتر معاف دي اوپه پرېښودلو کي يې گناه نسته او رسول الله ﷺ په سفر کي هيڅکله هم نه دي کړي، دهغه دا دعوه صحت لري اوکه نه؟

جواب: وتر واجب دي ددي پريښودل په هيڅ حال کي جائز نه دي که مسافر وي اوکه مقيم، او دسنتو په هکله غوره داده چي دامن او قرار په ځای کي دي کوي اوکه يې تلواروي نه دي کوي په دي کي څه ستونزه نسته (٤) اوپه ترمذي شريف کي دي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم په سفرکي سنت کړي دي. (٥)

---

(١) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١. ظفير

(٢) او ينوي الخ إقامة نصف شهر حقيقة او حكما الخ بموضع واحد صالح لها من مصر او قرية فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منه اى من نصف شهر اونوى فيه لكن في غير صالح كبحر وجزيرة او نوى فيه بموضعين مستقلين الخ او دخل بلدة ولم ينوها اى مدة الإقامة بل ترقب السفر غدا او بعده ولو بقى على ذلك سنين (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٦، ط.س. ج٢ ص١٢٥). ظفير

(٣) وصلاحية الموضع حتى نوى الإقامة في بر اوبحر او جزيرة لم يصح (عالمگيري مصري صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٩). ظفير

(٤) ويأتي المسافر بالسنن إن كان في حال أمن وقرار وإلا بأن كان في خوف وقرار لا يأتي بها هو المختار (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٣١). ظفير =

څوک چي تل په سفرکي اوسي هغه دي قصر کوي: **سوال**: (٢٢٦٩) يو سړی دسهارنپور په ريلوي دفتر کي نوکر دی او دهغه کور دسهارنپور څخه ٢٧ ميله ليري دی هغه څلورويشت ساعته په موټرکي اوسي او يوي خواته تر انبالي پوري بلي خواته تر غازي اباد پوري تګ راتګ کوي هغه ته لمونځ قصر کول په کار دي اوکه پوره؟
جواب: په داسي حالت کي چي ترڅو پوري هغه خپل اصلي وطن ته دتلو اراده نه وي کړي لمونځ به قصر کوي. (١) فقط

په کشتۍ کي اوسيدونکي قصر لمونځ کوي: **سوال**: (٢٢٧٠) کم جهازونه چي په خليج کي دشپي تړلي اوسي او دورځي درې ځلي دنيم ساعت په اوږدو کي ددي غاړي څخه بلي غاړي ته ځي راځي، ايا ددي جهاز ملازمين به قصر لمونځ کوي؟ او ددي خلګو اصلي وطن ته ددريو ورځو فاصله ده او داخلګ په جهاز کي اوسي خوراك او څښناك او پروته هرڅه په جهاز کي کوي؟
جواب: کم خلګ چي دليري څخه راسي او په جهاز کي ملازمت کوي، مثلا ددريو ورځو يازياتو مزل وکړي اوراسي په جهازکي نوکران سي او بيا هميشه په درياب کي جهازونه چلوي په هيڅ داسي ځای کي چي صالح للإقامة وي دپنځلسو ورځو دقيام نيت نه کوي نو دوی مسافر دي قصر لمونځ به کوي په دومختار کي دي: فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منه اى من نصف شهر او نوى فيه لكن في غير صالح كبحر او جزيرة الخ (درمختار) قوله كبحر قال في المجتبى والملاح مسافر الا عند الحسن وسفينته ايضا ليست بوطن آهـ الخ. (٢) فقط

دريل هغه ډرايور چي دانجن سره په منډه وي دهغه قيام په يوه ځای کي ترڅو ساعتونو ډير نه وي هغه به څه کوي؟ **سوال**: (٢٢٧١) هغه ډرايور چي ريل ګاډی چلوي دخپل هيډ کوارټر يعني مستقر څخه روزانه سل ميله يا لږ اوډير سفر کوي کله چي خپله دنده سرته ورسوي نو بل هيډکواټر ته ولاړ سي، او لږ ترلږه دولس ساعته يا څلورويشت ساعته دمه کوي بيا څو ساعته وروسته بل ګاډی واخلي او بيرته ستون سي، کله چي مخکني

---

(٥) وروى عن ابن عمر أن النبى ﷺ كان لا يتطوع في السفر قبل الصلوة ولا بعدها وروى عنه عن النبي ﷺ أنه كان يتطوع في السفر (ترمذي شريف باب ما جاء في التطوع في السفر ج١ ص٧٢). ظفير

(١) من خرج من عمارة موضع إقامته الخ قاصدا الخ مسيرة ثلثة أيام ولياليها الخ صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا الخ حتى يدخل موضع مقامه الخ او ينوي الخ إقامة نصف شهر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١). ظفير

(٢) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٧، ط.س. ج٢ ص١٢٢. ظفير

مستقر ته راورسيږي نو دلته هم دهغه ځاى په اندازه دقيام او ارام وخت په لاس ورځي نو هغه ته په دواړو ځايونوكي قصر كول ښايي اوكه پوره لمونځ؟

جواب: هغه ته په دواړو ځايونو كي قصر كول ښايي. (١) فقط

نوكر دخپل بادار ماتحت دي چي هغه قصر كوي دي به يي هم كوي: **سوال**: (٢٢٧٢) يو شرعي مسافر يوي سيمي ته ورسيدى او دهغه ځاى يو اوسيدونكى يي په دي شرط دځان سره نوكر كړ چي تر څو زه په سفر كي يم ته به له ما سره اوسي اخرني منزل يي بالكل معلوم نه كړى ددي سيمي څخه چي ووته نو په پنځه شپږ ميله فاصله كي يوه كلي ته ورسيده داقامت له نيت څخة پرته ترڅلورو اونيو هلته پاته وه او ديوه مخه يي قصر لمونځ كوى اوس دنوكرى دپاره څه حكم دى ايا دڅښتن په تبعيت كي دى هم قصر وكړي اوكه پوره لمونځ وكړي؟

جواب: دا ذكرسوى نوكر په دي صورت كي دخپل څښتن تابع دى كم نيت چي دڅښتن وي دهغه نيت متابعت په نوكر باندي لازم دى ليكن دمتبوع نيت معلومول ضروري دي په درمختاړ كي دي: والمعتبر نية المتبوع الخ ولا بد من علم التابع بنية المتبوع (٢) الخ وفي رد المحتار قوله و اجير اى مشاهرة او مسانهةً (٣) الخ نو كله چي اجير دمستاجر تابع وي همدا ډول به نوموړى ملازم هم تابع وي ځكه چي هغه هم مشاهرةً اجير دى. فقط

چي په يوڅو كليو كي په چكر لګولو سره مسافت پوره سي ددې څه حكم دى؟ سوال: (٢٢٧٣) ديوه سړي يو څو كلي دي چي دهغه دوطن څخه هر يوه كلي ته فاصله دقصر تر مسافت لږ ده كه چيري داسړى دخپل يوه كلي څخه بل ته منتقل كيدى چي په دي ډول دقصر مسافت پوره كيږي او په همدي اراده له وطن څخه تللى وي نو ددي سړي لپاره به دسفر احكام ثابت وي اوكه نه؟

جواب: پرده باندي به دقصر احكام ثابت وي. (٤) فقط

دغير مقلدينو په دريو ميلو باندي قصر كول او دهغوى دمستدل حديث تاويل: **سوال**: (٢٢٧٤)

(١) من خرج من عمارة موضع إقامته الخ قاصدا الخ مسيرة ثلاثة أيام ولياليها الخ صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا الخ فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منه اى من نصف شهر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج٢ ص٧٣٢ تا ٧٣٧، ط.س. ج٢ ص١٢١ - ١٢٣). ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٤، ط.س. ج٢ ص١٣٣. ظفير

(٣) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٥، ط.س. ج٢ ص١٣٤. ظفير

(٤) فاذا قصد بلدة والى مقصده طريقان أحدهما مسيرة ثلاثة أيام ولياليها والآخر دونها فسلك الطريق الأبعد كان مسافرا عندنا هكذا في فتاوى قاضي خان (عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٨). ظفير

دفقهاؤ په نزد په ۴۸ میله کم مسافر دوه رکعته کوي او غیر مقلدین په دریو میلوکي قصر کوي په ثبوت کي دحضرت انس ﷺ حدیث رامخته کوي چي په هغه کي دنبي کریم صلی الله علیه وسلم لخوا په دري میلو باندي قصر کول ثابت دي. ددي حدیث څه مطلب دی؟

جواب: چي ددري منزلو (چي له هغو څخه ۴۸ میله جوړيږي) دمسافت اراده یي وي نو دښار څخه په بهر وتلو سره قصر پیل کیږي (١) او همدا تاویل دهغه حدیث شریف دی چي هلته راغلي دي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم له مدیني منوري څخه بهر ددریو میلو په مسافه کي قصر وکړی یعني هغوی ﷺ لیري ځای ته دتللو اراده درلوده، لیکن دمدیني منوري څخه ددریو میلو تللو وروسته دلمانځه وخت سو نو هغوی قصر لمونځ وکړی. فقط

که چیري اجیر خپل وطن ته ورسیږي نو هغه به دمقیم په حکم کي وي که مالک ورسره نه وي هم: **سوال**: (۲۲۷۵) مشاهرة اجیر یعني نوکر که چیري دسفر په مهال دخپل مالك سره خپل کلي ته ورسیږي، نوقصر به کوي اوکه پوره لمونځ په حمادیه فتاوی کي دي: عبد سافر مع مولی فدخلا في وطن العبد لا یصیران مقیمین أما العبد فلأنه تابع وأما المولی لم توجد نیة الإقامة ولا دخول الوطن الأصلي. دا مسئله یوازي په غلام پوري ځانګړي ده اوکه په اجیر کي هم همدا حکم دی؟

جواب: اجیر مشاهرةً اګر که دتبعیت له پلوه دغلام په حکم کي دی او هیڅ شك نسته چي داقامت په وطن کي که چیري داصورت پیښ سي نو دغلام په ډول دهغه نیت ته به هم هیڅ اعتبار نه ورکول کیږي دهغه داقامت او سفر مدار دمستاجر پرنیت باندي دی، لیکن په اصلي وطن کي داصورت نسته ځکه هلته په رسیدلو سره سفر باطلیږي دنیت اونه نیت په دي باندي اثر نه پریوځي، ځکه نوکه چیري اجیر دخپل مستاجر سره اصلي وطن ته ورسیږي نو سفر به یي سمدستي باطل سي او ددي پرته په نورو ځایونوکي به دمتبوع دنیت تابع وي، په دي کي دي: والمعتبر نیة المتبوع لأنه الأصل لا التابع کإمرأة وفاها مهرها المعجل وعبد الخ واجیر الخ مع زوج ومولی ومستاجر الخ (٢) فقط

مقتدي مسافر به په مقیم امام پسي دڅو رکعتو نیت کوي؟ سوال: (۲۲۷٦) امام مقیم دی او

---

(١) من خرج من عمارة موضع إقامته الخ قاصدا الخ مسیرة ثلاثة ایام ولیالیها الخ ولا إعتبار بالفراسخ علی المذهب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص۷۳۵، ط.س. ج۲ ص۱۲۱). ظفیر

(٢) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص۷۴۴ - ۷۴۵، په شامي کي دي: وأجیر ای مشاهرة او مسانهةً الخ (رد المحتار باب ایضا ج١ ص۷۴۱، ط.س. ج۲ ص۱۳۰). ظفیر

مقتدي مسافر دی نو مقتدي به دڅلورو رکعتو نیت کوي اوکه ددوو؟

جواب: مسافر ته په مقیم پسي اقتداء کول روا دي، او مسافر مقتدي به دمقیم إمام داتباع له امله دڅلورو رکعتو نیت کوی او څلور رکعته به کوي، په درمختار کي دي: وأما إقتداء المسافر بالمقیم فیصح في الوقت ویتم. (۱) الخ

یوښار یي پرېښووی بل ته ولاړی اوس که مخکني ته راسي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۲۷۷) یوه سړي دیوي وجهي خپل اهل او عیال له (الف) ښار څخه (ب) ښار ته ولیږل او هغه دالف ښار په ګاونډکي په مزل کولو سره وخت تیروي که چیري دا سړی الف ښار ته راسي چي هلته دده بند او قلف کور دی نو هلته به ده ته مقیم ویل کیږي او که مسافر؟ بل داچي که چیري دا سړی (ب) ښارته ولاړ سي چي هلته دده ټول خپلوان او عزیزان دي لیکن هلته دده قیام ترلسو ورځو هم کم دی، اوهغوی د(الف) ښار ته بیرته راستنیدونکي دي چي هلته دوی په مستقل ډول اوسیږي نو په داسي صورت کي به هغه په (ب) ښارکي مسافر بلل کیږي اوکه مقیم؟ هغه ته هر ډول ارام په ب ښار کي حاصل دی او له الف ښار څخه دهغه اهل او عیال په عارضي ډول تللي دي؟

جواب: معلومیږي چي دهغه اصلي وطن (ب) ښار دی چیري چي دهغه ټول عزیزان او خپلوان دي نوکه چیري دهغه وطن واقعي دب ښار وي نو هلته په رسېدلو سره به فورا لمونځ پوره کوي او په (الف) ښار کي که هغه دنوکری له امله اوسیږي نو هغه یي داقامت وطن دی که یي هلته دپنځلسو ورځو یا ډیرو تیرولو نیت وو نو لمونځ به پوره کوي که نه وي قصر به کوي، حاصل دادی چي په اصلي وطن کي لمونځ قصر کول ښایي، اواصلي وطن هغه دی چیري چي دهغه زیږیدنه سوي وي او مور اوپلار یي اوسیږي او نکاح یي سوي وي غرض داچي دکم ځای هغه اصلي اوسیدونکی دی هغه یي اصلي وطن دی تر څو پوري چي هغه پرېښږدي اوبل وطن وطن جوړنه کړي، همدغه به یی اصلي وطن وي. (۲) فقط

په څومره سفر باندي قصر دی: **سوال**: (۲۲۷۸) قصر لمونځ په څومره سفر کي دی؟

جواب: په دري منزله سفر کولو باندي قصر پرمسافر واجب ګرځي. (۳) فقط

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۱، ط.س. ج۲ ص۱۳۰. ظفیر

(۲) الوطن الأصلي هو موطن ولادته او تأهله او توطنه یبطل بمثله إذا لم یبق له بالأول أهل فلو بقی لم یبطل الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص۷۴۲، ط.س. ج۲ ص۱۳۱). ظفیر

(۳) السفر الذي یتغیر به الأحکام أن یقصد مسیرة ثلاثة أیام ولیالیها بسیر الإبل ومشی الأقدام الخ والسیر المذکور هو الوسط (هدایه باب صلوة المسافر ج۱ ص۱۴۸). ظفیر

چي قصرنه کوي نو ګناهګاربه وي اوکه نه؟ سوال: (۲۲۷۹) چي قصر لمونځ نه کوي نو ګنهګاريږي اوکه نه؟
جواب. ګنهګاريږي. (١)
دقصر په حالت کي سنت او وتر سته اوکه نه؟ سوال: (۲۲۸۰) دقصر په حالت کي سنت او وتر سته اوکه نه؟
جواب: وتر کول اړين دي، او سنت دي هم دډاډ او فرصت په صورت کي نه پريږدي. (٢)
په سفر کي دماپښين او مازديګر لمونځو په يوه وخت کي کول جائزدي اوکه نه؟ سوال: (۲۲۸۱) دماپښين او مازديګر لمونځ دسفر په حالت کي يوځای کول جائز دي اوکه نه؟
جواب: په يوه وخت کي دواړه کول جائز نه دي. (٣)
ددوري په ډول سفر کوونکي باندي قصر سته او که نه؟ سوال: (۲۲۸۲) دنوکری په حالت کي چي کم خلګ ددوري په ډول سفرونه کوي پرهغوی باندي قصر سته اوکه نه؟
جواب: که سفر ددريو منزلو وي نو قصر لازم دی يعني په دوره کي چي ترپايه کم ځای ته دتلو اراده وي که هغه ځای ته ددريو منزلو لاره وي نو قصر کول ښايي. (٤)
قصر کوونکي امام لمونځ پوره وکړي نو دامام او مقتدي لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال: (۲۲۸۳) [١] يو مسافر قصر کوونکی دماسخوتن په لمانځه کي امام سو او دقصر پرځای يي څلور رکعته لمونځ وکړی دامام او مقتديانو دا لمونځ وسو اوکه نه؟
دريل په سفرکي پوره لمونځ کول ښتکه دي؟ سوال: (۲۲۸۴) [٢] بل داچي که يو مسافرپه دي خيال چي دريل سفر هوسا سفردی قصر ونه کړي نو ايا دی به ګنهګاروي؟
جواب: [١] که چيري امام په دوو رکعتو باندي ناسته کړي وي نو دهغه لمونځ وسو او مقتديانو که چيري دهغه سره سره لمونځ پوره کړی نو دهغوی لمونځ ونه سو، كما مر في الشامي: فلوأتم المقيمون صلاتهم معه فسدت لأنه إقتداء المفترض بالمتنفل إذا قصدوا

---

(١) وفرض المسافر في الرباعية ركعتان لا يزيد عيها الخ وإن صلى اربعا وقعد في الثانية قدر التشهد اجزأته الأوليان عن الفرض والأخران له نافلة (هدايه ايضا). ظفير

(٢) وبعضهم جوز للمسافر ترك السنن والمختار أنه لا يأتى بها في حال الخوف ويأتي بها في حال القرار و الأمن. (عالمگيري ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٩). ظفير

(٣) ولا جمع بين فرضين في وقت بعذر سفر ومطر خلافا للشافعي وما رواه محمول على الجمع فعلا، لا وقتا فإن جمع فسد لو قدم الفرض على وقته وحرم لو عكس اى أخره عنه وإن صح بطريق القضاء (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصلوة قبيل باب الأذان ج١ ص٣٥٤ – ٣٥٥، ط.س. ج١ ص٣٨١). ظفير

(٤) أقل مسافة تتغير فيها الأحكام مسيرة ثلاثة أيام الخ والقصر واجب (عالمگيري باب في صلوة المسافر ج١ ص١٢٩، ط. ماجدية ج١ ص١٣٨). ظفير

متابعته الخ (١).

[٢] مسافر لره قصر کول لازم د، په دي خيال چي دريل سفر دارام دی پوره لمونځ کول صحيح نه دي. (٢)

چي شپيته ميله ليري ځي نو قصر به کوي اوکه نه؟ سوال: (٢٢٨٥) [١] زيد دخپل اصلي وطن ښخه د (ب) ښار ته ځي چي هغه تر شپيته ميله په ډيره فاصله کي پروت دی ليکن دروانيدلو په مهالل دهغه نيت هلته تر پنځلسو ورځو دډيري پاته کيدني دی په دي صورت کي هغه ته په لاره کي قصر کول په کاردي اوکه نه؟

چي دپنځلسو ورځو دقيام ښخه وروسته بيرته ځي نوسفر به ددې ځای ښخه شماريږي اوکه دمځکني ښار ښخه؟ سوال: (٢٢٨٦) [٢] مثلا زيد له (ب) ښارښخه دپنځلسو ورځو دقيام ښخه وروسته د (ج) ښار ته ځي نو دقصر کولو لپاره به دفاصلي شمير له (ب) ښارښخه کيږي اوکه دزيد داصلي وطن ښخه؟

مقيم دي په مسافر پسي دڅلورو رکعتو نيت وکړي: سوال: (٢٢٨٧) [٣] مقيم لره په مسافر امام پسي مثلا دمازديګر په لمانځه کي دڅلورو رکعتو نيت کول په کار دي که ددوو؟

جواب: [١] قصر لمونځ کول ښايي. (٣)

[٢] په دي صورت کي به دفاصلي شمار له (ب) ښار ښخه کيږي. (٤)

[٣] دڅلورو رکعتو نيت کول په کار دي دوه رکعته دامام سره او دوه به وروسته کوي. (٥)

په کم ځای کی چي نکاح کړي وي ايا هغه ځای مطلقا داصلي وطن حکم لري؟ سوال: (٢٢٨٨) [١] په درمختار کي يي دا ځای هم وطن اصلي ليکلی دی (او تأهله) يعني دنکاح کولو ځای نو ايا مطلقا هغه ځای چيري چي نکاح کول سوي ده وطن اصلي دی، اوکه ددي څه بل مطلب دی او ددي څه تفصيل دی؟

دښځي اصلي وطن دخسرګني کور دی او که دمور او پلار او که چيري څوک داقامت دوطن

---

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤١، ط.س. ج٢ ص١٣٠. ظفير

(٢) والقصر لازم عندنا الخ وهی تدل علی ان الفرض رکعتان وان الاتمام منکر ولو کان جائزا لفعله علیه الصلوة والسلام مرة تعلیما للجواز (غنية المستملي فصل صلوة المسافر ج١ ص٤٩٩). ظفير

(٣) من خرج من عمارة موضع إقامته قاصداً مسيرة ثلاثة أيام ولياليها الخ صلى الفرض الرباعي رکعتين وجوبا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١). ظفير

(٤) ويبطل الإقامة بمثله وبالوطن الأصلي وبانشاء السفر (ايضا ج١ ص٧٤٣، ط.س. ج٢ ص١٣٢). ظفير

(٥) وصح إقتداء المقيم بالمسافر في الوقت وبعده فإذا قام المقيم إلى الإتمام لا يقرأ ويسجد للسهو في الأصح لأنه كاللاحق والقعدتان فرض عليه وقيل لا (ايضا ج١ ص٧٤٠، ط.س. ج٢ ص١٣٠). ظفير

ځخه لس دولس میله سفر کوي نومسافر به وي اوکه نه؟ سوال: (۲۲۸۹) [۲] دښځي اصلي وطن دخسرګنی کور دی او که دمور او پلار دزېږېدني دوطن ځخه مراد کم وطن دی؟ مطلقا اوکه هغه ځای چي په عرف کي ورته وطن وايي. که چيري يو سړی په يوه ځای کي نوکر وي، اودهغه اصلي وطن دهغه ځايه دشرعي سفر په اندازه ليري وي، اوس که دا سړی دنوکری له ځای ځخه لس دولس میله سفر کوي نو مسافر به وي اوکه نه؟

جواب: [۱] داصلي وطن معنی دا ليکي چي وطن دقرار وي يعني هلته اوسيدل مقصود وي نو موضع دتاهل يعني دنکاح ځای هغه وخت اصلي وطن دي چي هلته اوسيدل مقصود وي او دهغه ميرمن هلته اوسي، دا مطلب نه دی چي که چيري په يوه ځای کي دنکاح کولو ځخه وروسته ښځه راولي نو بيا دي هم هغه ځای دده وطن وي لنډه دا چي کم ځای دهغه ميرمن اوسيږي او ده لره هلته اوسيدل مقصود وي، نوهغه اصلي وطن دی که چيري دوه ميرمني يي په دوو ښارونوکي اوسيږي نو دواړه يي اصلي وطنونه دي: ولو كان ببلدتين فايتهما دخل صار مقيما. شامي (۱)ددي عبارت ځخه ښکاره ده چي هلته دميرمني اوسيدل او سته والی معتبر دی، يواځي نکاح کول داصلي وطن دجوړيدلو سبب نه دی چي ښځه ور ځخه راولي.

[۴] ښځه دسړي تابع ده، چي خاوند يي هرځای ساتي هغه به دهغې اصلي وطن وي (۲) دولادت وطن هغه دی چيري چي هغه زيږيدلی وي او دهغه مور او پلار هلته اوسيږي، او دملازمت په ځای کي چي هلته دی مقيم وي او داقامت په وجهه لمونځ پوره کوي ترڅو پوري چي دهغه ځای ځخه دشرعي سفر په مسافت دوتلو اراده ونه کړي قصر به نه کوي. فقط

هغه سرکاري ملازم چي ۴۸ يا ۶۰ ميله دوره کوي هغه به قصر کوي اوکه نه؟ سوال: (۲۲۹۰) زيد سرکاري ملازم دی دهغه داستوګني ځای (الف) دی، ليکن هغه کله په اطرافوکي يعني په ۴۸ ميله کي دننه اوکله پنځوس شپيته ميله تر اتياوو ميلو پوري دوره کوي او په دوره کي شپږ اته او کله لس ورځي تيري سي، داوسيدلو ځای ته واپس نه راځي په دي صورت کي به قصر کوي اوکه نه؟

جواب: که چيري دکور ځخه دوتلو په مهال هغه اراده کړي وه چي په دي دوره کي دسفر

---

(۱) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۲، ط.س. ج۲ ص۱۳۱. ظفير

(۲) والمعتبر نية المتبوع لأنه الأصل لا التابع كإمرأة وفاها مهر المعجل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۳) ويبطل وطن الاقامة بمثله وبالوطن الاصلي وبانشاء السفر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۳، ط.س. ج۲ ص۱۳۳). ظفير

پای فلانی ځای دی چي هغه داستوګني دځای ښخه اته ځلوېښت میله یا ډیر لیري دی نو قصرلازم دی که نه وي نه دی.

له اله اباد ښخه بمبئ ته ددوو یا څلورو میاشتو په نیت روان سو نو په لاره به قصر کوي اوکه نه؟ **سوال:** (۲۲۹۱) زید له اله اباد ښخه بمبئ ته روان سو لیکن په بمبئ کي دوه دری میاشتي اوسیدل غواړي په دي صورت کي به هغه په لاره قصر کوي اوکه نه؟

جواب: په لاره به قصر کوي. (۱)

دقصر په اړوند یوڅو پوښتني: **سوال:** (۲۲۹۲) [۱] که چیري یو سړی دوطن ښخه وتلی په ۴۲ میله لیري ځای کي ایسار سي او په دي ځای کي یي دپنځلسو ورځو یاددي ښخه دکمو ایساریدلو اراده وي نو لمونځ قصر کول ورته جائز دي اوکه نه؟

سوال: (۲۲۹۳) [۲] په کم ځای کي چي فرض لمونځ قصر کیږي که هلته سنت ونه کړي نو ګناه سته اوکه نه؟

سوال: (۲۲۹۴) [۳] دسفر په حالت کي دوه لمونځونه په یوه ځای کول لکه دماپښین دمازدیګر سره یا دماښام دماخستن سره جائز دي اوکه نه؟

جواب: [۱] ددریو ورځو په مسافت کي قصر کیږي چي ددي اندازه ۴۸ میله ښودل سوي ده که چیري هلته دتللو وروسته دپنځلسو ورځو دقیام اراده لري نو لمونځ دي پوره کوي اوکه ددي ښخه دلږو ورځو دقیام اراده لري نو قصر دي کوي.

[۲] ګناه نسته، لیکن دقیام په حالت کي سنت کول غوره دي. (۲)

[۳] که چیري دا ډول جمع والی وکړي چي ماپښین په خپل اخر وخت کي سي او مازدیګر په خپل اول وخت کي، نودا جمع صحیح ده، داجمع صورتا ده حقیقتا نه ده، یعني داسي دي نه کوي چي دمازدیګر لمونځ دماپښین په وخت کي وکړي، یا دماپښین لمونځ قضا کړي او دمازدیګر په وخت کي وکړي، دا صحیح نه ده. (۳)

دکور ښخه درواندیدو وروسته به په څومره فاصله کي قصر پیلوي؟ **سوال:** (۲۲۹۵) [۱] دکوره

---

(۱) من خرج من عمارة موضع إقامته الخ قاصدا الخ مسيرة ثلثة أيام ولياليها الخ صلى الفرض الرباعي ركعتين (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۳۲، ط.س. ج۲ ص۱۲۱) قوله قاصدا اشار به مع قوله خرج إلى انه لو خرج ولم يقصد او قصد ولم يخرج لا يكون مسافرا (رد المحتار ج۱ ص۷۳۳، ط.س. ج۲ ص۱۲۲). ظفير

(۲) ويأتي المسافر بالسنن إن كان في حال أمن وقرار وإلا لا يأتي بها هو المختار (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۲، ط.س. ج۲ ص۱۳۱) ظفير

(۳) ولا يجوز الجمع عدنا بين الصلوتين في وقت واحد سوى الظهر والعصر بعرفة والمغرب والعشاء بمزدلفة (غنية المستملي ص۵۰۷). ظفير

چي څومره فاصلې ته ورسيږي نوقصر به کوي؟

دريل ګاډي هغه ملازم چي تل په سفرکي اوسي هغه به څه کوي؟ سوال: (۲۲۹۶) [۲] زه دريل ګاډي ملازم يم اوتل په سفر کي اوسم په ځينو ځايونو کي دوه ورځي په ځينو ځايونو کي څلور ورځي او په ځينو ځايونو کي ددوه دري مياشتو پيوست اوسيدو امکان هم وي، په داسي حالت کي به لمونځ پوره کوم او که به قصر کوم؟

دقصر دحکم سره سره که چيري پوره لمونځ وکول سي جواز لري اوکه نه؟ سوال: (۲۲۹۷) [۳] که چيري زه ددي رعايت يعني قصر وړ يم او بيا ددوو رکعتو په ځای پوره لمونځ ادا کړم دا جواز لري اوکه نه؟

دسفر په حالت کي دسنت مؤکدهٔ او وترو څه حکم دي؟ سوال: (۲۲۹۸) [۴] په داسي حالت کي دسنت مؤکدو، وترو او نوافلو دادا کولو څه حکم دی؟

دمابښام په فرضو کي قصر سته اوکه نه؟ اوکه وي نو څنګه به وي؟ سوال: (۲۲۹۹) [۵] دمابښام ددريو رکعتونو څه حکم دی؟

جواب: [۱] ددي نوم قصر دی په سفر کي دقصر لمونځ کولو حکم دی يعني کم لمونځ چي څلور رکعته دی هغه په سفر کي دوه رکعته کيږي دمابښام او سهار په لمونځونو کي قصر نسته، دقصر شرط دا دی چي ددريو منزلو دسفر اراده وي يا ددي څخه ډير او ددري منزلو اندازه په ۴۸ ميلونو کي ښودل سويده.

[۲] ستاسي غوندي سفر کوونکي ته چي کله سفر ددريو منزلو يا ددي څخه ډير وي دا حکم دی چي که چيري په يوه ځای کي دپنځلسو يا ډيرو ورځو دقيام اراده وي نو پوره لمونځ دي کوي که نه وي قصر دي کوي. (۱)

[۳] دشرعي مسافر چي ترڅو پوري دپنځلسو يا ددي څخه دزياتو ورځو دقيام نيت نه وي قصر کول وربانديَ واجب دي پوره لمونځ کول نه ښايي داسي کول جواز نه لري. (۲)

[۴] مؤکد سنت دډاډ او امن په حالت کي کول پکار دي، اوکه په عين سفر کي وي اوتلوار يې وي نونه دي کوي، اوفرض به په هر حال کي کوي. (۳)

[۵] په مابښام کي قصر نسته. (۴)

---

(۱) و(۲) من خرج من عمارة إقامته قاصدا مسيرة ثلاثة ايام الخ صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا الخ حتى يدخل موضع مقامه الخ او ينوى الخ إقامة نصف شهر حقيقة او حكما (درمختار باب صلوة المسافر، ط.س. ج۲ ص۱۲۱). ظفير

(۳) ويأتي المسافر بالسنن إن كان في حال أمن وقرار وإلا لا يأتي بها هو المختار. (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۲، ط.س. ج۲ ص۱۳۱). ظفير =

دجنګ دميدان هغو سپاهيانو ته چي علم نه وي هغوی به څه کوي؟ سوال: (٢٣٠٠) موږ دجنګ په ميدان کي شامل يو ليکن لس ورځي يو ځای او لس ورځي بل ځای ايساريدنه وي، او موږ ته له مخکي څخه هيڅ خبر نه وي کيدای سي په يوه ورځ کي کورته راسو او کيدای سي چي ترلسو کالو پوری رانه سو په دي صورت کي به موږ لمونځونه قصرکوو اوکه نه؟ او سنت به هم کوو اوکه نه؟ او دجمعي په هکله څه حکم دی؟

جواب: په داسي حالت کي لمونځ قصر ادا کول په کار دي ([1]) او دسنتو حکم دادی چي که چيري داطمينان او ډاډ حالت وي نو سنت ادا کول غوره دي که نه وي پريښودل دي سي په درمختار کي دي چي که چيري مسافر دامن او قرار په حالت کي وي نو سنت مؤکد دي وکړي اوکه چيري امن او قرار نه وي نونه دي کوي او امام هندواني رحمه الله فرمايي چي دايسارتيا په حالت کي دي سنت کوي او دمزل په حالت کي دي نه کوي ([2]) کذا في الشامي، اوپه مسافر باندي جمعه فرض نه ده که چيري موقع په لاس ورسي او جمعه وکړي ښه خبره ده خو ضروري نه ده که يي جمعه وکړه نو دماپښين لمونځ يې دذمي څخه ساقطيږي، اوکه يي دجمعي لمونځ ونه کړی نو دماپښين لمونځ کول په کار دي. ([3])

که يوڅوک په يوه دائره کي تل راځرخي ليکن هغه ځايونه دشرعي سفر حدته نه نوځه به کوي: سوال: (٢٣٠١) زه په کلو او بانډوکي راتاويږم او پرلپسي شل ورځي پنځه ويشت ورځي يا لس ورځي چي څنګه صورت وي دخپل استوګنځي څخه دباندي اوسم ليکن په يوه مقام باندي ديوې اونۍ څخه ډېر قيام اجازه نسته خو دا ځايونه داستوګنځي څخه ددريو شپو او دريو ورځو په مسافت باندي نه دي بلکه داستوګنځي په شاوخوا باندي را تاو دي که دمسلسل مسافت لحاظ وکړل سي نو سفر به دټاکلي مودي څخه ډېر سي

([٤])صلى الفرض الرباعي ركعتين (درمختار) واحترز بالفرض عن السنن والوتر وبالرباعي عن الفجر والمغرب (ردالمحتار ج١ ص٧٣٥، ط.س. ج٢ ص١٢٣). ظفير

([1]) ولو دخل مصرا على عزم أن يخرج غدا او بعد غد ولم ينو مدة الإقامة حتى بقى على ذلك سنين قصر الخ وإذا دخل العسكر فنوو الإقامة بها قصر وكذا إذا حاصروا فيها مدينة او حصنا الخ (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفير

([2]) ويأتي المسافر بالسنن إن كان في حال أمن وقرار إلا بان كان خوف وفرار لا يأتي بها هو المختار (درمختار) وقال الهندواني رحمه الله الفعل حال النزول والترك حال السير الخ والأعدل ما قاله الهندواني رحمه الله (رد المحتار باب صلوة المسافر ط.س. ج٢ ص١٣١). ظفير

([3]) ولا تجب الجمعة على مسافر الخ فإن حضروا فصلوا مع الناس اجزأهم عن فرض الوقت الخ (هدايه باب الجمعة ج١ ص١٥٢). ظفير

اوکه دټول سفر لحاظ وکړل سي نو ډیر مسافت جوړیږي په دي صورت کي په لمانځه کي قصر کول واجب دي اوکه نه؟

جواب: کله چي دمسافت مجموعه دسفر دشرعي اندازي څخه ډیره ده، ځکه نو استوګنځی ته تر رارسیدلو پوري لمونځ قصر کول ښایي، قال في الدرالمختار حتى يدخل موضع مقامه إن سار مدة السفر الخ قوله إن سار مدة السفر قيد بقوله حتى يدخل أي إنما يدوم على القصر إلى الدخول إن سار ثلاثة (١) الخ

مقيم مقتدي به دمسافر امام دسلام څخه وروسته په پاته دوو رکعتونوکي فاتحه وايي اوکه نه؟

سوال: (٢٣٠٢) که يو مقتدي په مسافر امام پسي لمونځ کوي نوکله چي امام تردوو رکعتو وروسته سلام وګرځوي نو دی به څلور واړه پوره کوي اوس دپوښتني خبره داده چي په دوو وروستنيو رکعتونو کښي به فاتحه وايي اوکه نه؟

جواب: په وروستنيو دوو رکعتوکي دي هيڅ نه وايي بلکه له پټه خوله دريدلو وروسته دي رکوع وکړي. (٢)

دخسرګنۍ په ځای کي به قصر کوی اوکه پوره لمونځ؟ **سوال**: (٢٣٠٣) [١] دخسرګنۍ ځای ته لس منزله فاصله ده زيد ته دخسرګنۍ ځای ته تررسيدلو وروسته پوره لمونځ کول ښايي اوکه قصر؟

مسافر امام پوره لمونځ وکړي نومقتدي لمونځ وسو اوکه نه؟ **سوال**: (٢٣٠۴) [٢] مسافر امام سهوا پوره لمونځ وکړی نو دمقتديانو لمونځ وسو اوکه نه؟

سوال: (٢٣٠۵) [٣] مسافر پرځان نذر کښيښوی چي په سفر کي به تر دريو څلورو ورځو پوري پوره لمونځ کوم نو دنذر دورځو لمونځ پوره وکړي اوکه قصر؟

جواب: [١] چي دخسرګنۍ ځای ته ورسيږي نو لمونځ دي پوره کوي کما في الشامي: قوله او تاهله اى تزوجه قال في شرح المنية (٣) ولو تزوج المسافر ببلد ولم ينو الإقامة به فقيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما وهو الأوجه الخ (لس منزله دقصر مسافت نه دی ځکه نوپه پوښتنل سوي صورت کي دقصر سوال دسره پيدا کيږي نه. ظفير)

[٢] دمقتديانو لمونځ فاسد سو، شامي ج١ ص٣٩١. ولو إقتدى مقيمون بمسافر وأتم

---

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢۴. ظفير

(٢) وصح إقتداء المقيم بالمسافر في الوقت وبعده فإذا قام المقيم إلى الإتمام لا يقرأ ولا يسجد للسهو في الأصح لأنه كاللاحق والقعدتان فرض عليه وقيل لا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴٠، ط.س. ج٢ ص١٣٠). ظفير

(٣) غنية المستملي ص۵٠۵. ظفير

بهم بلا نية إقامة وتابعوه فسدت صلوتهم لكونه متنفلا في الأخريين.
[٣] قصر كول په كار دي دا نذر دهغه لغوه دی ځکه چي معصيت دی او دشرعي ثخه سر غړونه ده قصدا په پوره لمونځ كولو سره ګنهګاريږي، او دمقيم لمونځ په هغه پسي نه كيږي، كما مر فلو اتم مسافر إن قعد في الأولى تم فرضه وأساء الخ درمختار. (١) فقط

مقيم دمسافر امام ديوه ركعت ثخه وروسته اقتداء وكړه نو څنګه لمونځ ادا كړي؟ **سوال**: (٢٣٠٦) مقيم دمسافر اقتداء هغه مهال وكړه چي امام يو ركعت كړی وو نو اوس دمسافر امام دسلام ګرځولو وروسته مقيم ته څرنګه لمونځ كول ښايي؟

جواب: لومړي دوه ركعته دي خالي وكړي او په دريم كي دي قراءت ووايي. (٢) فقط

مسافر دجمعي په لمانځه كي امام كيدای سي: **سوال**: (٢٣٠٧) مسافر دجمعي په لمانځه كي امام كيدای سي اوكه نه؟

جواب: مسافر دجمعي دلمانځه امام جوړيدای سي. (٣) فقط

په هرحال كي دقصر دليل: **سوال**: (٢٣٠٨) په هر سفركي دامن او امان سره سره خو به هرومرو قصر واجب نه وي؟

جواب: دوجوب دليل دا حديث دی: وعن يعلى بن أميه قال قلت لعمر بن الخطاب (رضی الله عنه) إنما قال الله تعالى (أن تقصروا من الصلوة إن خفتم أن يفتنكم الذين كفروا) فقد أمن الناس قال عمر عجبتُ مما عَجِبْتَ منه فسألت رسول الله ﷺ فقال صدقة تصدق الله به عليكم فأقبلوا صدقتة. رواه مسلم (٤) حاصل دا چي يعلى بن اميه ﷺ وايي چي ما حضرت عمر (رضی الله عنه) ته عرض وكړی چي الله جل جلاله فرمايلي دي چي: كله تاسو ته دكفارو له لوري دفتني بيره وي نو لمونځ قصر كوی. نو اوس خو خلګ په امن دي هغه بيره نسته يعني نو اوس قصر كول نه ښايي، هغه ورته وويل: ماته هم دا شبهه پيښه سوي وه نوما رسول كريم ﷺ ته په دي هكله عرض وكړی هغوی وويل: چي دا دالله جل جلاله انعام دی دا قبول كړی.

په ريل كي قصر په څومره مسافت كي واجيږي: **سوال**: (٢٣٠٩) دريل په سفركي به په څومره مسافت كي قصركوي؟

---

(١) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص١٠٩، ط.س. ج٢ ص١٢٨. ظفير
(٢) ولو إقتدى المقيم بالمسافر صح (إلى قوله) فاذا صلى المسافر ركعتين يسلم ويقوم المقيم فيتم صلوته بغير قراءة في الأصح الخ بخلاف المسبوق (غنية المستملي ص٥٠٤). ظفير
(٣) ويجوز للمسافر والعبد والمريض أن يؤم في الجمعة (هدايه ص١٥٢ ج١). ظفير
(٤) مشكوة ص١١٨. ظفير

جواب: که چیري دری منزله پیاده سفر وي نو په ریل کي هم په دي مسافت باندي قصر کول په کار دي مثلا ۴۸ میله سفر وي نو قصر درست دی او ضروري دی. (١) فقط

رسول الله ﷺ په سفر کي څو رکعته کړیدي؟ سوال: (٢٣١٠) رسول الله صلی الله علیه وسلم په سفرکي دوه رکعته لمونځ کړی وو اوکه څلور رکعته؟ او بل دا چي په غزواتو کي هغوی دوه رکعته کړي وه داوسني عصر درون اندو خلګو په عقیده یوازي دوه رکعته لمونځ فرض دی څلور رکعته نه دی، دا مسئله مفصله ولیکئ؟

جواب: درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي دسفر یا غزواتو په مهالل دڅلورو رکعتو په ځای دوه رکعته کول دقصر په سبب وو، په شرعي سفر کي دڅلورو رکعتو په ځای دوه رکعته فرض دي، په قرآن کریم کي دي: ﴿وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ﴾ الآية، وفي الحديث عن ابن عباس رضی الله تعالی عنه وعن ابن عمر قالا سنّ رسول الله ﷺ صلاة السفر رکعتین وهو تمام غیر قصر، الحدیث (٢). فقط

دقصر په حالت کي سنت او وتر: سوال: (٢٣١١) په قصرکي سنت او وتر کول په کار دي اوکه نه؟ که یو سړی په دوره کي وي چي هره ورځ ځایي او کوچي وي په داسي حالت کي قصر وکړي اوکه نه؟ چي دوطن څخه په څومره فاصله کي وي قصر به جائز وي؟

جواب: په درمختار کي دي: ویأتي المسافر بالسنن إن کان في حال أمن وقرار وإلا بأن کان في خوف وفرار لا یاتي بها هو المختار (٣) ددي حاصل دادی چي که مسافر په کم ځای کي په قرار وي او تلوار یي نه وي نوسنت دي وکړي اوکه دتلواري سفر وي او یا بیره وي نو سنت دي پرېږدي بیا یي ویلي دي چي دځینو په نزد دي دسهار سنت بیا هم نه پرېږدي (٤) که داقامت دځای څخه په دوره کي دومره دلیري تللو اراده وکړي او ولاړ سي چي دری منزله یعني ۴۸ میله وي نوپه ټوله دوره کي دي قصرکوي بیاچي کله بیرته داقامت ځای ته راسي اولړ ترلړه دپنځلسو ورځودقیام نیت وي لمونځ دي پوره وکړي (٥)

---

(١) اعلم أن أقل مدة السفر عندنا مسافة ثلاثة ایام من أقصر ایام السنة بالسیر الوسط (إلی قوله) وعامة المشائخ قدروها بالفراسخ الخ (غنیة المستملي ص۴۵۷). ظفیر

(٢) مشکوة باب صلاة السفر ص۱۱۹، اخرجه مسلم في صحیحه عن مجاهد عن ابن عباس فرض الله الصلوة علی لسان نبیکم في الحضر اربع رکعات وفي السفر رکعتین (نصب الرایه ج۱ ص۱۸۹). ظفیر

(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۱۱۸، ط.س. ج۲ ص۱۳۱. ظفیر

(٤) وقیل یصلی سنة الفجر خاصة وقیل سنة المغرب ایضا، بحر (ردالمحتار ج۱ص۷۰۷،ط.س. ج۲ص۱۲۱). ظ

(٥) من خرج من عمارة موضع اقامة قاصدا مسیرة ثلاثة أیام ولیالیها الخ او نوی اقامة نصف شهر حقیقة او حکما (إلی قوله) اتم مختصرا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۰۷، ط. س. ج۲ ص۱۲۱). ظفیر

دقصر لپاره کور جوړول معتبر نه دي: **سوال**: (٢٣١٢) دیوه سړي سکونت په خپل اصلي وطن کي دی په بل ښار کي یي یواځي دخپلي دویمي ښځي دسکونت لپاره کور جوړ کړی بیا یي دخو کلونو وروسته داوبو اوهوا دناسموالي له امله دویمه ښځه هم خپل اصلي وطن ته راوسته او دهغه بل ښار کور یي قلف کړی دکور ځیني سامانونه اوس هم هلته دي او دښځي هلته بیرته ورتلل هم شکمن دي په دي صورت کي که داسړی دکم ضرورت په وجه مسافه ووهي اوهغه بل ښار ته راسي نو هغه به قصر کوي اوکه څلور رکعته پوره؟

جواب: په دي حالت کي به هغه قصر کوي کما في شرح المنیة إذا المعتبر الاهل دون الدار ([1]). فقط

هغه مسافر چي دپنځلسو ورځو نیت ونه کړي: **سوال**: (٢٣١٣) یو سړی دخپل کور څخه په ٣٢ منزله فاصله کي تجارت کوي، په داسي ډول چي په کم ښار کي کور ونیسي او پکښي اوسیږي او بهر کلیو ته دسامان پلورلو لپاره هره ورځ وزي او ماښام داوسیدو ځای ته بیرته راځي کله کله یو دوه ورځي په کلي کي یاته سي په دي صورت کي لمونځ قصر وکړي اوکه پوره؟

جواب: که پنځلس ورځي یا ډیري په هغه ځای کي دقیام نیت وي نو لمونځ پوره کول په کار دي، داقامت له نیته وروسته که دپلورلو لپاره ددوو یادریو منزلو په فاصله کلیو ته ځي او ماښام داوسیدو ځای ته بیرته راځي نو هغه ته دلمانځه دقصر کولو حکم نه ورکول کیږي، پوره لمونځ کول ورته په کار دي لیکن که یي په هغه حای کي چي چیري یي داوسیدو لپاره کور په کرایه نیولی دپنځلسو ورځو داقامت نیت نه وي بلکي داول څخه یي دا اراده وي چي په فلاني ځای کي به چي په ٣٢ منزله کي دی کور نیسم او په کلیو کي به سودا خرڅوم او داوسیدو په دي ځای کي به قیام نه کوم نو بیا دي قصر وکړي. ([2])

په سفرکي په دي نیت سره چي الله پوهیږي چي څه وخت به بیرته راځم څه وکړي؟ سوال: (٢٣١٤) یو سړی په دي خیال په اوږد سفر روان سو چي الله پوهیږي چي زه به کله بیرته راسم هغه قصر وکړي اوکه نه؟

جواب: هغه ته لمونځ قصر کول په کاردي یعني دوه رکعتــه کول په کار دي ترڅو چي یي

([1]) غنیة المستملي ص٥٠٢. ظفیر

([2]) عن عبدالله بن عمر قال اذا کنت مسافرا فوطنت نفسك علی إقامة خمسة عشر یوما فأتم الصلاة وان کنت لا تدري متی تظعن فاقصر (غنیة المستملي ص٥٠١). ظفیر

دپنځلسو ورځو دقیام نیت په کم ښارکي نه وي کړی. (١)

دخسر په کور کي چي په دری منزله کي دی قصر وکړي اوکه نه؟ سوال: (٢٣١٥) زید که خپلي خسرګنۍ ته ولاړ سي چي په دری منزله کي دی نوقصر وکړي اوکه نه؟ یعني تر پنځلسو دکمو ورځو په اراده ولاړ سي، همدا ډول که هنده دخپلي خسرګنۍ کورته تر پنځلسو ورځو دلږو په اراده ولاړه سي چي په دری منزله دی نو قصر به کوي اوکه نه؟

جواب: قال في الدرالمختار الوطن الأصلي هو موطن ولادته او تأهله اوتوطنه الخ قوله او تأهله أی تزوجه قال في شرح المنیة ولوتزوج المسافر ببلد ولم ینو الإقامة به فقیل لا یصیر مقیما وقیل یصیر مقیما وهو الأوجه الخ (٢) شامي، ددي څخه دامعلومه سوه چي زید او هنده دي په ذکر سوي صورت کي لمونځ پوره وکړي. فقط

سفر له قصده پرته: سوال: (٢٣١٦) که اخوا دیخوا کلو بانډو ته دخرڅولو لپاره ځي او راځي اوداوسیدو ځای له ډولو څخه تردری منزله په لږ فاصله کي وي او همدا راز دخرڅولو لپاره ځي ددي کلي څخه هغه کلي ته او دهغو څخه دریم او څلورم ته نوپه دي ډول فاصله دډیرو کلیو تر دریو منزلو ډیره زیاتیږي یا بیخي معلومه نه وي نو دلمانځه دقصر به څه حکم وي؟

جواب: په دا ډول تللو کي دڅه خرڅولو لپاره چي کله یي لومړی ځای اراده ددریو منزلو نه وي کړي اویا معلومه نه وي اګر که په تلو تلوکي ډیره سي نو دلمانځه دقصر کولو حکم نسته. لمونځ پوره کول په کار دي. (٣)

ایا دقصر کولو لپاره دښار څخه وتل ضروري دي؟ سوال: (٢٣١٧) که څوك په یوه وطن کي مقیم سوی وي نوکله چي دی اصلي وطن ته دتللو قصد وکړي نو په دي سره به دلمانځه قصر لازم سي اوکه دښار څخه بهر وتل شرط دي؟

جواب: داقامت دښار څخه وتل دشرعي سفر په قصد دقصر لپاره شرط دي، یواځي دتللو په اراده سره قصر نه لازمیږي (٤) فقط والله تعالی اعلم کتبه عزیز الرحمن.

---

(١) او دخل مصرا علی عزم ان یخرج غدا او بعد غد ولم ینو مدة الاقامة حتی بقی علی ذلك سنین قصر لان ابن عمر رضي الله عنه اقام باذربایجان ستة اشهر وکان یقصر ومن جماعة الصحابة مثل ذلك (هدایه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفیر

(٢) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط. س. ج٢ ص١٣١. فالأصلي وهو مولد الإنسان او موضع تأهل به قصد التعیش به لا الارتحال عنه (غنیة المستملي ص٥٠٥). ظفیر

(٣) ومن طاف الدنیا بلا قصد لم یقصر (الدرالمختار باب صلوة المسافر ج١ ص١٠٧ ط. س. ج٢ ص١٢٢). ظ

(٤) المعتبر في السفر أمران أحدهما عزم السیر وثانیها الخروج من البلدان فإن جاوز بیوت المصر غیر قاصد للسفر لا یون مسافرا وإن جاوزها قاصدا مدة مادون السفر لایکون سفرا آه (بنایة شرح الهدایه) هو أن قصد =

كه مسافر په هيره سره پوره لمونځ وكړي نو څه حكم لري؟ سوال: (٢٣١٨) مسافر په دويم ركعت كي ناست وو پورته سو او څلور ركعتونه يي پوره كړل نو دهغه لمونځ وسو اوكه نه؟ او هغه گنهگار دی اوكه نه؟

جواب: مسافر كه په مينځ كي قعده كړي وي او په لاعلمي سره يي پوره لمونځ كړی وي نو هغه وسو، او گناهگار نه دی خوكه قصدا داسي وكړي نو بيا گنهكار دی اوكه مسافر دمقيم امام سو نو دمقيم لمونځ ونه سو هغه ته خبر وركول لازم دي. (لو اتم مسافر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه ولكنه اساء لو عامدا، درمختار على هامش الشامي ص٨٢٥، ما زاد نقل لمصلي الفجر اربعا ايضا، لايصح الإقتداء (إلى قوله) ولا مفترض بمتنفل، درمختار على هامش الشامي ص٢٠٢).

دوې لاري وي اوپر هغه لاره ولاړ چي قصر وربانـدي كيـږي نـو څـه حكـم دی؟ سـوال: (٢٣١٩) كه يو سړی يوه ځای ته سفر وكړي اوكم ځای تـه چي ولاړ سي دهغه دوې لاری وی يوه دقصر مسافه ده او بله كمه ده نو كه دا سړی دی ځای ته په هغی لار ولاړ سي چي دقصر لاره ده نو هغه ته بهٔ قصر لمونځ جائز وي اوكه نه؟ يعني دقصر دجواز دپاره به په هغو دواړو لاروكي كمي لاري ته اعتبار وي، پركمه لاره چي تللی هغې ته اوكه هغي ته چي دقصر تر مسافت كمه ده، اودقصر مسافه څومره ده؟

جواب: دكومي لاري څخه چي يي سفر كړی وي دهغي لاري مسافت ته په قصر اونه قصر كولو كي اعتبار دی كه يي په هغي لاره سفر كړی وي چي دهغي مسافه ٣٢ منزله ده يا اته څلويښت ٤٨ ميله وي نو په دي مسافه كي قصر لازم دی اگركه ددې ځای دويمه لار تر دي كمه وي. (وإذا قصد بلدة وإلى مقصده طريقان احدهما مسيرة ثلاثة أيام ولياليها والآخر دونها فسلك الطريق الأبعد كان مسافر عندنا وإن سلك الأقصر يتم، عالمگيري ج١ ص١٣٢ جميل الرحمن).

دميرټهـ څخه ډهلي ته راتلونكي قصر وكـړي اوكـه نـه؟ سوال: (٢٣٢٠) ددين عالمان څه وايي په دي هكله چي دشرعی سفر مسافه دانگريزي ميل په حساب سره چي دهغه مقدار اوه لس سوه او اويا دی څومره ده؟ او دميرټهـ څخه دهلي ته راتلونكي قصر لمونځ وكړي كه پوره؟ كله چي ددواړو تر مينځ مسافه ٤٥ ميله ده، او دښار څخه ٤٢ ميله ده.

جواب: دحنفيانو مذهب دادی چي ددريو ورځو يعني ددريو منزلو په سفر كي قصر دی نو دميرټهـ څخه دهلي تـه كـه دری منزلـه وي قصر كولای سي اوكـه نـه وي نـه يـي سي

= سيرا وسطا ثلاصة ايام ولياليها وفارق بيوت بلده آه شرح وقايه (مولانا مفتي سيد مهدي حسن صاحب).

کولای، اوفرسخونو او میلونو ته دظاهر مذهب له مخي اعتبار نسته، کومو مشائخو چي دعوامو داساني لپاره فرسخونو ته اعتبار ورکړی دی په هغو کي درې قوله دي، یوویشت فرسخه یعني ۲۳ شرعي میله، یا اتلسی فرسخه یعني شپږ پنځوس ۵۲ شرعي میله، یا پنځلس فرسخه یعني ۴۵ شرعي میله، او فتوی په دویم یا دریم قول باندي ورکړل سویده، کذا في ردالمحتار، او شرعي میل څلور زره ذراع دی، او یوه ذراع شپږ قبضی یعني اته ګري دمروج انګریزي ذراع په حساب سره، نوشرعي میل دوه زره ګزه سو، اوانګریزي میل چي اوه لس سوه او اویا ګزه دی نو في میل دوه سوه او څلویښت ګزه تفاوت دانګریزي او شرعي میل تر مینځ سو، نو ۴۵ شرعي میله تقریباً پنځوس انګریزي میله کیږي، او دفرسخونو په اعتبار سره لږ تر لږه دقصر مسافه پنځوس میله سوه، لیکن کله چي دفرسخونو معتبرول داصل مذهب سره خلاف دي نوځکه به اوس مدار پرمنازلو وي، او دا امر تر عرف، عادت او تجربي پوري موقوف دی، او دفقهي په کتابونو کي داهم موجود دي چي ددریو ورځو دسفر څخه دا مراد دي چي په لنډو ورځوکي چي په سفرکي دسهار څخه تر زواله پوري خومره مسافه وهل کیږي هغه مقدار دمیلونو معتبریږي، همدا وجه معلومیږي چي زموږ درنو استاذانو روزانه دوولس منزله سفر یعني اوه لس میله غوره کړی دی، ځکه که روزانه شپږ ساعته دسفر لپاره مقرر کړل سي نو په یوه ساعت کي دوه منزله سړی په متوسط تګ سره وهلای سي، په دي اعتبار سره یي دقصر مسافه ۴۸ میله یعني ۳۲ منزله ټاکلي ده. فقط

تم المجلد الرابع بتوفیق الله تعالی وعونه وکرمه فالحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله وصحبه اجمعین. ویلیه المجلد الخامس.

وأنا العاجز المفتقر إلى رحمة الله تعالى محمد ظفير الدين المفتاحي غفر الله ذنوبه الخفي والجلي، المرتب للفتاوى دار العلوم ديوبند، (وقد قام بترجمته وتصحيحه هذا العبد العاجز أخوكم في الله الفقير للرب القدير محمَّد أحمد الحقاني الأفغاني، غفر الله تعالى جميع ذنوبه ورحمه عند موته، آمين ثم آمين).

السبت ، ا جمادی الاُولی ، ۱۴۳۰ هـ ق





مع رسالة (النظم المستطاب لحكم القراءة فى صلاة الجنازة بأمّ الكتاب)

للعلامة الشُّرُنبلالى رحمه الله صاحب نور الإيضاح


بسم الله الرحمن الرحيم

دموجوده وخت په دار الافتآء کې دمروجه نسخو مطابق، دنوي تخريج سره اعلیٰ کمپوټري چاپ

فتاویٰ دار العلوم دیوبند

مدلّل و مکمّل

مع رسالة (**النظم المستطاب لحكم القراءة فی صلاة الجنازة بأمّ الكتاب**)

للعلامة الشُّرُنبلالی رحمه الله صاحب نور الإيضاح

په آسانه او روانه کندهاري پښتو

كتابُ الصّلوٰة (څلورمه رُبع)

پنځم جلد ⑤

تاليف: مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی ؒ
((ددار العلوم ديوبند اول مفتی))

په لار ښوونه د: حکيم الاسلام حضرت مولانا قاری محمدطيّب صاحب ؒ (مهتمم دارالعلوم‌ديوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفير الدين صاحب، رفيقِ شعبۀ ترتيبِ فتاوٰی دار العلوم ديوبند

اضافه تخريج جديد: مولانا مفتی محمد صالح، رفيقِ دارالافتآء جامعة اسلاميه، بنوری ټاؤن کراچی

ژباړه ، تعليق او تحقيق: مولانا الحافظ محمّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانيه، پشاور

زيرِ نګراني: شيخ الحديث حضرت مولانا الشيخ عبد القادر النهرکاريزي (دامت بر کاتهم العالية)

مکتبہ حبیبیہ

کاسي روډ، کوئټه ☎ : 0812662448

al-ilmcorp@hotmail.com

لومړۍ چاپ

۱۴۳۰ ربیع الاول هـ \ مارچ 2009 م

Maktabah Habibiyah	مكتبه حبيبيه
Publishing Organization	خپرووںكى اداره

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارگ بازار کندهار ، افغانستان ، گرځنده تلیفون
Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجد نور ، کوئټه ، تلیفون شمیره
AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپیوټرز، کوئټه پاکستان، گرځنده تلیفون شمیره

دفتاوٰی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست، جلد ۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(فتاوي دار العلوم ديوبند ، مدلّل ومكمّل ، جلد پنځم)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَسَلاَمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى !

دفتاوىٰ داپنځمه حصه داهل علمو اوعامو مسلمانانو په خدمت کې په وړاندې کولو سره زما زړه په حمد اوشکر سره شونډې خوځونکې، اوتندې مې دهغه کريم رب په مخکې ټيټې سويدې، دچاپه توفيق اوعنايت سره چې داعظيم خدمت ترسره کيږي، کنې چيرې ددې تصور هم نه سو کيدلی چې زما غوندې ظلوم اوجهول انسان به ددار الافتاء په اتلس کلن غير مرتب ريکارډ کې ددې څه دپاسه لك خورو ورو مسائلو په بيدار دماغې سره دمطالعې کولو اوبيا هغه په فقهي ترتيب باندې دموجوده دور دعلمي تقاضو موافق، مهذب اومرتب کړې اوددې په وړاندې کولو کې به په کاميابۍ سره را ستون سي.

دالله ﷻ فضل وکرم دی، چې په دې حصه باندې کتاب الصلوٰة پوره سو، اوپه دا ډول دوه زره۲۰۰۰ صفحې اوکم وبيش څلور زره (۴۰۰۰) مسائل ستاسې لاسونو ته ورسيدل، الله ﷻ دې هغه ورځ هم ژر راولي چې ددې سلسلې باقي حصې هم خاکسار ستاسې په خدمت کې په وړاندې کولو سره وويلی سي:

شادم از زندگی خويش که کاری کردم

(خوشحاله په خپل ژوند يم چې يو کار خو مې وکړی).

دلته خاکسار دخپل دکار نگران ، دشعبې سرپرست، حکيم الاسلام حضرت مولانا القاری محمد طيب صاحب دامت برکاتهم مهتمم دار العلوم ديوبند په خدمت اقدس کې دامتنان او دتشکر هديه پيش کول خپله فريضه گڼي، چاچې دشروع څخه تراوسه پورې په قدم قدم باندې زما حوصله افزايي وکړه، اوبالخصوص په دې علمي خدمت کې يې مرسته وفرمايله، بلکې ددې خدمت قدر شناسي وفرمايله، اوزما دعلم جوش، دلچسپي، او علمي ولولې اوحوصلې ته يې طاقت وروبخښې، ددې سره دخپلو شفيق ترينو اساتذه کرامو سر پرست شعبه اودهغه بزرگانو په خدمت کې دعقيدې اومحبت هديه پيش ده، دچاپه قلبي دعاگانو اوحوصله زياتونکو کلماتو سره چې زما داټول علمي جد جهد باقي او دترقي سره مخ دی، دعاء ده چې الله ﷻ دې ددې حضراتو بې پناه شفقتونه، محبتونه اوفيوض اوبرکات راته نصيب لري.

دلته داعرض کول هم ضروری دی چې دلمانځه متعلق هغه بعض خاص مسائل په کمو کې چې عوام اوخواص زيات مبتلی، يوځای يوځای دسوال اودجواب دنوعيت دفرق سره تکراراً باقی پريښوول سوی دی ليکن ائنده ددی برای نام تکرار دباقی پريښوولو اراده نسته .

په آخره کې دعاء ده چې اله العالمين دی دخپل يوبی اسبابه بنده داحقير خدمت قبول کړی، اودده داخدمت دده دپاره دآخرت توښه ددواړو جهانونو دکاميابی ذريعه جوړه کړی. ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم. آمين. يارب العالمين.

ددعاء طلبګار

محمد ظفير الدين غفرله

مرتب فتاویٰ دار العلوم ديوبند

١٢\ ربيع الاول \ ١٣٨٥هـ ق



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الحمد لله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام علیٰ سيد المرسلين وعلیٰ اٰله وصحبه اجمعين.

اَلبَابُ الخَامِسُ عَشَرَ فِی صَلاَةِ الجُمُعَةِ

دجُمعې دلمانځه مسئلې

دکم کلی ابادی چی (۱۲۵) کوره وی په هغه کی جُمعه اواختر درست نه دی: سوال: (۲۳۲۱) چی په کلی کی (۱۲۵) کورونه وی نوهلته دجُمعې او داختر لمونځ کیدی سی اوکه نه؟

جواب: داکوچنی کلی دی، په دی کی دجُمعې اوداختر لمونځ درست نه دی. [1] فقط

دولسوالۍ په حدودوکی جُمعه درست ده: سوال: (۲۳۲۲) که چیری دولسوالۍ په شا وخوا کی ځوك دجُمعې لمونځ کوی نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: که چیری دولسوالۍ په حدودو کی ځوك جُمعه کوی نوصحیح ده اوکم کوچنی کلی چی دولسوالۍ سره متصل دی په هغه کی جائزنه ده او دولسوالۍ دحدودو ځخه مراد فناء دښار ده په کمه کی چی دولسوالۍ کارو بارونه کیږی لکه رکض خیل (دآسانو ځغاسته دپاره دټریننګ) وغیره. [2] فقط

چیری چی تحصیلدار وی اودوه زره ابادی وی هلته جُمعه جائزده: سوال: (۲۳۲۳) په کم ښار کی چی تحصیل دار وغیره اوسیږی اودهغه مردم شماری دوه زره یادی ته نژدی وی نوهغه ته مصر ویل جائزدی اوکه نه؟ دهغه په اطرافو کی جُمعه کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: فقهاءؤ تصریح کړیده، چی په لوی کلی اوولسوالۍ کی جُمعه واجب الاداء ده، نو که چیری ذکر سوی ښار په قریه کبیره کی داخل معلومیږی، لهذا په دی کی او ددی په فناء کی جُمعه درسته ده. [3] فقط

---

[1]. وفیما ذکرنا اشارة الی انه لاتجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر وخطیب (ردالمحتار باب الجمعة ج ۱ ص۷۴۸. ط. س. ج. ۲ ص ۱۳۸). ظفیر

[2]. ویشترط لصحتها المصر الخ اوفناء وهوما حوله اتصل به اولا لا جل مصالحه کدفن الموتی ورکض الخیل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج ۱ ص ۷۴۷ - ۷۴۹. ط، س، ج ۲ ص ۱۳۸). ظفیر

[3]. وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق (ردالمحتار باب الجمعة ج ۱ ص ۷۴۸. ط. س. ج ۲ ص ۱۳۸). ظفیر

دمصر فناء: **سوال**: (۲۳۲۴) دمصر فناء ترڅو میلو پوری ده؟
جواب: دمصر دفناء دپاره دمیلونو تعداد معتبر نه دی، بلکې دمصر فناء هغه ده کمه چې دمصر دمصالحو دپاره اودمصر دکارونو دپاره مهیا وی، کدفن الموتی ورکض الخیل والدواب وجمع العساکر والخروج للرمی وغیر ذالك، (١) شامی. فقط
دهندوستان په ښار کې جُمعه درست ده: **سوال**: (۲۳۲۵) بعضو اشخاصو خلګ دجُمعې دلمانځه څخه بندکړی دی وایی چې دجُمعې شرائط په هندوستان کې نه پیدا کیږی په دی وجه نه په ښارکې جُمعه کیدی سی اونه په ولسوالۍ کې ایادهغوی داوینا درسته ده؟
جواب: په ولسوالۍ ښار اوقریه کبیره کې بغیر دشك او شبهې څخه جُمعه واجب الاداء ده، دجُمعې مانعین اومنکرین په غلطۍ باندی دی اودفرضو ترك کوونکی دی، قال فی ردالمحتار: وَتَقَعُ فَرْضًا فِي الْقَصَبَاتِ وَالْقُرَى الْكَبِيرَةِ الَّتِي فِيهَا أَسْوَاقٌ ، وفیه قبیله : وَبِهَذَا ظَهَرَ جَهْلُ مَنْ يَقُولُ لَا تَصِحُّ الْجُمُعَةُ فِي أَيَّامِ الْفِتْنَةِ مَعَ أَنَّهَا تَصِحُّ فِي الْبِلَادِ الَّتِي اسْتَوْلَى عَلَيْهَا الْكُفَّارُ كَمَا سَنَذْكُرُهُ اهـ (٢) فقط
دخطبې په ځای دقرآن پاک رکوع کافی ده: **سوال**: (۱۳۲۲) که چیری دخطبې په ځای دقرآن پاك یوه رکوع وویل سی نوجُمعه درسته ده اوکه نه؟
جواب: په درمختار کې دی: وکفت تحمیدة اوتهلیلة اوتسبیحة الخ (٣)، یعنی دخطبې دپاره کافی دی، یووار الحمدلله ویل یا دلا اله الا الله ویل، یا دسبحان الله ویل، ددی څخه معلومه سوه چې دقرآن کریم په رکوع ویلو سره فرض خطبه ادا کیږی، لیکن په دی باندی اکتفاء کول دسنتو څخه خلاف دی، سنت دا دی چې دوی خطبې وویل سی، ویسن خطبتان، (۴) فقط
په دری څلور سوه ابادی والا کلی کې جُمعه درسته نه ده: **سوال**: (۲۳۲۷) زموږ په کلی کې تقریبًا دری څلور سوه بنی ادمان اوسیږی او ضروریات وغیره هیڅ څه نه پیدا کیږی نوپه داسی کلی کې عند الاحناف دجُمعې او داخترونو لمونځ واجب اواداء کیږی اوکه نه؟ او دقول داکبر مساجد حد ناقص وغیره صحیح اومزیف اومنقوص عند المحققین دی اوکه نه؟

---

(١). وفناءه ما اتصل به لاجل مصالحه کدفن الموتی ورکض الخیل (درمختار) اعلم ان بعض المحققین اهل الترجیح اطلق الفناء عن تقدیره بمسافة وکذا محرر المذهب الامام محمد رحمه الله وبعضهم قدره بها (رد المحتار ج ١ ص ۷۴۹. ط. س. ج۲ ص ۱۳۸). ظفیر
(٢). ردالمحتار باب الجمعة ج ١ ص ۷۴۸. ط. س. ج ۲ ص ۱۳۸. ظفیر
(٣). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج ١ ص ۷۵۸. ط. س. ج ۲ ص ۱۴۸. ظفیر
(۴). ایضا ط.س. ج۲ ص۱۴۸. ظفیر

جواب: په داسی کلی کی دحنفی مذهب موافق دجُمعې اوداخترونو لمونځ صحیح نه دی: کما فی الشامی وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض الخ وقال قبیله وتقع فرضًا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ ردالمحتار جلد اول. (۱) اوداکبر مساجد دعدم وسعت تعریف منقوص اومزیف دی، کما قال فی شرح المنیة فکل تفسیر لا یصدق علی احدهما فهو غیر معتبر حتٰی التعریف الذی اختاره جماعة من المتأخرین کصاحب المختار والوقایة وغیرهما وهو ما لو اجتمع اهل فی اکبر مساجده لا یسعهم فانه منقوض بهما اذ مسجد کل منهما یسع اهله وزیادة الی ان قال فلا یعتبر هذا التعریف (۲). فقط

دمؤذن خطیب ته دبعضو جملو ویلو څخه وروسته همسا ورکول درست نه دی: **سوال**: (۲۳۲۸) دمدراس دعلاقی په یوڅو کلیو کی داعادت مستمره دی، چی مؤذن دجُمعې په ورځ دخطبی څخه مخکی په لاس کی امساء نیولی دا الفاظ وایی، الجمعة عید للفقراء والمساکین قال النبی ﷺ اذا صعد الخطیب المنبر فلا صلاة ولا کلام ولغی الخ ددی څخه وروسته مؤذن خطیب لره امسا په لاس کی ورکړی بعض علماء دا طریقه منع کوی او ورته بدعت سیئه وایی، اوبعض ورته جائز اومستحب وایی. بینوا تؤجروا؟

جواب: ددی متعلق علامه شامی په آخرکی دالیکلی دی، اقول کون ذلك متعارفاً لا یقتضی جوازه عند الامام القائل بحرمة الکلام ولو امر بالمعروف او رد سلام استدلالاً بما مرّ ولا عبرة بالعرف الحادث اذا خالف النص الخ (۳). ددی څخه معلومه سوه چی ممانعت ارجح دی، نو قول دمانعینو صواب دی. فقط

دتکبیر په وخت کی درود په جهر سره ویل ثابت نه دی: **سوال**: (۲۳۲۹) علی هذا دلمانځه دتکبیر او داقامت څخه مخکی دمؤذن درود جهریه ویل بعضی خلگ منع کوی، اوبعض دا مستحب گرځوی، کم یوقول صحیح دی؟

جواب: په شامی کی یی ددرود شریف دمستحب والی په ځایونو کی یی لیکلی دی. وعند الاقامة (۴)، یعنی دتکبیر ویلو په وخت کی هم درود شریف مستحب دی، لیکن دجهر قید په هغه کی نه سته ، او فقهاءؤ دهغه ځایونو څخه ماسوا چیری چی جهر وارد

---

(۱). ردالمحتار باب الجمعة ج ۱ ص ۷۴۸ ، ط.س. ج۲ ص ۱۳۸ . ظفیر

(۲). غنیة المستملی. باب الجمعة ص ۵۱۱. ظفیر

(۳). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۲۹ مطلب فی حکم المرقی بین یدی الخطیب، ط.س. ج۲ ص ۱۲۰ . ظفیر

(۴). ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل فی تالیف الصلوة مطلب نص العلماء علی استحباب الصلوة علی النبی ﷺ فی مواضع ص ۴۸۳. ظفیر

سوی دی جهر منع کړی دی، نوښه داده چی درود شریف کرار ووایی. (١) فقط

چی په کم ځای کی جُمعه جائزنه ده هلته به په کولو سره ګنهګار سی: سوال: (٢٣٣٠) په کمه علاقه کی چی تقریبًا دوه زره بنی ادمان ابادوی، نوهلته جُمعه اواخترونه جائزدی او که نه؟ اوپه کم ځای کی چی شرعًا جُمعه او اخترونه جائز نه دی هلته به دجُمعې او داخترونوپه لمونځ کولو سره هغه خلګ ګنهګار سی اوکه نه؟ دجُمعې او داخترونو داداء کیدلو دپاره څومره مردم شماری په کار ده، فقهاء داشرط دکم ځای څخه لګوی چی دجُمعې اوداخترونو دپاره ماسواء دامام څخه ددروکسانو موجودوالی شرط دی حالانکه دجُمعې اوداخترونو دپاره جماعت شرط دی اودجماعت دپاره دوه کسان کافی دی. په نیل الاوطار کی دی: اما الاثنان فبانضمام احدهما الاخر یحصل الاجتماع وقد اطلق الشارع علیها اسم الجماعة فقال الاثنان فما فوقهما جماعة، ددی حدیث پاك څه جواب دی؟

جواب: قال فی الردالمحتار المعروف بالشامی: وتقع فرضًا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق، الی ان قال وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض الخ شامی باب الجمعة (٢). ددی عبارتونو څخه ښکاره ده چی جُمعه په قصبو اولوی کلی کی اداء کیږی اوپه درمختار باب العیدین کی دی: وفی القنیة صلوٰة العید تکره تحریما ای لانه اشتغال بما لا یصح لان المصر شرط الصحة قوله صلوٰة العید: ومثله الجمعة (٣).

ددی عبارت څخه معلومه سوه چی په کوچنی کلی په کم کی چی شرائط دجُمعې نه پیدا کیږی، که چیری په هغه کی دجُمعې او داخترونو لمونځ اداء کړل سی نوهغه خلګ به ګنهګار وی، باقی داخبره چی په کمه علاقه کی دوه زر (٢٠٠٠) بنی ادمان وی هغه قریه کبیره ده، که چیری په هغه کی بازار اودکانونه وی نوجُمعه به هلته اداء کیږی کنی نه، دبنی آدمو تعداد دصحیح روایاتو څخه ثابت نه دی، بلکی عرفا چی کم کلی خلګ قریه کبیره ګڼی هغه قریه کبیره ده اوکمه چی قریه صغیره ګڼی هغه قریه صغیره ده. اوپه در مختار کی دی: والسادس الجماعة واقلها ثلثة رجال الخ سوی الامام بالنص لانه لابد من

---

(١). ومستحبة فی کل اوقات الامکان الخ وازعاج الاعضاء برفع الصوت جهل وانما هی دعاء له والدعاء یکون بین الجهر والمخافتة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ایضا ج ١ ص ٤٨٣ - ٤٨٥ ، ط.س. ج٢ ص ....). ظفیر

(٢). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٨ ، ط.س. ج٢ ص ١٣٨ . ظفیر

(٣). ردالمحتار باب العیدین ج١ ص٧٧٥ ، ط.س. ج٢ ص ١٢٧ . ظفیر

الذکر وهو الخطیب وثلثة ماسواه بنص فاسعوا الی ذکر الله ([1])، ددی عبارت څخه یی دجُمعې په جماعت کی دامام څخه ماسوا ددری کسانو کیدل دنص څخه ثابت کړی دی یعنی دایت کریمه، فاسعوا الی ذکر الله څخه. اوځنګه چی په نیل الاوطار کی دی دا مذهب دصاحبینو دی، امام صاحب دقرآنی آیت مبارکه په وجهی سره احتیاطًا ددری کسانو شریك والی شرط کړی دی.

دجُمعې په خطبه کی وعظ درست دی اوکه نه؟ **سوال:** (۲۳۳۱) دجُمعې په خطبه کی دقرآن پاك وعظ جائزدی اوکه نه؟ دحضور ﷺ څه معمول وو؟

جواب: دجُمعې په خطبه کی وعظ ویل دصحابه کرامو ﷺ دستور نه وو، یعنی دعربی ژبی څخه بغیر په خطبه کی بله ژبه داخله سوی نه وه، لهذا فارسی، اُردو، پښتو، اونوری په خطبه کی ویل مکروه ([2]) دی.

ایاپه هندوستان کی دجُمعې اواخترونو لمونځ درست دی؟ **سوال:** (۲۳۳۲) ایاپه هندوستان کی جُمعه او داخترونو لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: دهندوستان په ښارونو اوقصبو اولویو کلیو کی جُمعه صحیح ده، اوپه کوچنی کلی کی درسته نه ده . ([3]) کمامر. فقط

داحتیاط الظهر حکم نسته: **سوال:** (۲۳۳۳) په هندوستان کی دجُمعې دلمانځه داداء کولو څخه وروسته احتیاط الظهر سته دی اوکه نه؟

جواب: احتیاط الظهر نسته. په ښارونو وغیره کی ځکه چی هلته جُمعه صحیح ده، ([4]) اوپه کوچنی کلی کی جُمعه اداء کیږی نه، هلته دماپښین لمونځ په جمع سره کول په کار دی. فقط

دجُمعې داول اذان څخه وروسته اخیستل خرڅول جائز نه دی: **سوال:** (۲۳۳۴) نن صبا دجُمعې دلمانځه دپاره دوه اذانونه کیږی، یو مخکی او بل دخطبی دشروع کیدو څخه مخکی. نو دکم اذان څخه وروسته سودا کول ناجائز دی؟

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۰ - ۷۲۱ ، ط.س. ج۲ ص ۱۵۱ . ظفیر

([2]). لا یشترط کونها بالعربیة فلو خطب بالفارسیة اوبغیرها جاز کذا قالوا والمراد بالجواز فی حق الصلاة بمعنی انه یکفی لاداء الشرطیة وتصح به الصلاة لا الجواز بمعنی الاباحة المطلقة فانه لا شك فی ان الخطبة بغیر العربیة خلاف السنة المتوارثة من النبی ﷺ والصحابة ﷺ فیکون مکروها تحریما ۞ (عمدة الرعایة علی هامش شرح الوقایه باب الجمعة ج۱ ص۲۳۲). ظفیر

([3]). فلو الولاة کفارا یجوز للمسلمین اقامة الجمعة (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۵۴، ط. س. ج۲ ص ۱۴۴. ظفیر

([4]). وفی البحر وقد افتیت مرارا بعدم صلاة الاربع بعدها بنیة اخر ظهر خوف اعتقاد عدم فرضیة الجمعة وهو الاحتیاط فی زماننا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۷ ، ط.س. ج۲ ص ۱۳۷). ظ

جواب: قال فى الدر المختار ووجب سعى اليها وترك البيع ولومع السعى وفى المسجد اعظم وزراً بالاذان الاول فى الاصح، وفى الشامى قلت وسيذكر الشارح فى اخر البيع الفاسد ان لا باس به اى بالبيع لتعليل النهى بالاخلال بالسعى فاذا انتفى انتفى الخ (ط. س. ج٢ ص ١٢١) دذكر سوى عبارت څخه ددواړو خبرو جواب معلوم سو، چي په اول اذان سره سعى الى الجمعة واجب سى، اوسودا كول منع سى، اوداچي كله سعى الى الجمعة نه فوت كيږى نوبيا سودا كول درست دى. فقط

<u>په پنځه سوه يا يو نيم زر ابادئ كى جُمعه نسته</u>: **سوال**: (**٢٣٣٥**) په يوكلى كى پنځه سوه ابادى ده نودلته جُمعه درسته ده اوكه نه؟ اوكه چيرى په بل كلى كى يونيم زرابادى وى په هغه كى هم جُمعه درسته ده اوكه نه؟ ددى دواړو كليو ترمينځ ديوه بزرګ خانقا ده، په هغه كى هم جُمعه درسته ده اوكه نه؟ دڅومره ابادى په لحاظ سره جُمعه صحيح كيږى؟

جواب: وتقع فرضا فى القصبات والقرى الكبيرة التى فيها اسواق الى ان قال وفيما ذكرنا اشارة الى انه لا تجوز فى الصغيرة التى ليس فيها قاض الخ، ([1]) شامى جلد اول، باب الجمعة، ددى عبارت څخه دامعلومه سوه چي دحنفيانو په نزدپه لوى كلى كى جُمعه اداء كيږى. كم چي دولسوالۍ په شان وى، اوپه هغه كى بازار او دكانونه وى، اوپه كوچنى كلى كى جُمعه نه صحيح كيږى، نو ددى فقهى قاعدى څخه معلوميږى، چي په دى دواړو كليو كى جُمعه صحيح نه ده اوپه مينځ كى چي دبزرګ كم مزار دى هلته هم جُمعه درسته نه ده. بيا دى واضحه وى چي دولسوالۍ ابادى كم از كم څلور پنځه زره بنى آدمان وى، نوچى كم كلى داسى وى په هغه كى به جُمعه صحيح وى. فقط

<u>مخكى ښار وو بيا وران سو څلور سوه ابادى پاته سوه نوجُمعه پكښى جائزه نه ده</u>: **سوال**: (**٢٣٣٦**) شيخ پوره علاقه كمه چي په يوه زمانه كى ډير غټ ښار وو، سكهانو دا لوټ كړله اوتباه يى كړله اوس يى موجوده حالت دادى چي ټول څلور نيم سوه بنى آدمان پكښى اباد دى، اودوه ديرچون دكانونه دى نه پكښى بازار سته اونه څه ضرورى شى پيدا كيږى زميندار يى مسلمانان دى، ددرياب دنژديوالى په وجه دډيرو كليو مړى هلته كى غورځول كيږى، ايا په داسى ځاى كى شرعا جُمعه جائز ده اوكه نه؟ ديو ځاى پخوا زمانه كى ښار كيدل، اودبل ځاى مړى هلته غورځول كيدل يا دفن كيدل دجُمعې دجواز په شرائطوكى دى اوكه نه ؟ دجُمعې شرائط مثلاً سلطان يا دسلطان نائب وغيره په هندوستان كى خو مفقود دى، لهٰذا په هندوستان كى دجُمعې جائز كيدل نه دى پكار؟

[1]. ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٨ ، ط.س. ج٢ ص ١٣٨ . ظفير

جواب: فی الحال کله چی دشیخ پوره علاقه آبادی ټوله دځلور نیمو سوو بنی آدمو ده، یا فرض کړه ددی څخه څه زیاته ده اوبازار وغیره هلته نسته. اونه هلته ضروری شیان پیدا کیږی، نودغه ځای یقینًا قریه صغیره ده په کمه کی چی فقهاء جُمعه کول ناجائز اومکروه تحریمی لیکلی دی په شامی کی دی: وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ([1]) الخ، اوپه درمختار باب العیدین کی دقنیه څخه منقول دی، صلوٰة العید فی القری تکره ([2]) تحریماً الخ، په شامی کی دی ، ومثله الجمعة ([3]) .
په یوه تیره زمانه کی دذکر سوی ځای ښار یا ولسوالۍ کیدل یا دقریب اوجوار کافران اومسلمانان مړی هلته غورزول کیدل یادفن کیدل ددغه ځای دښاروالی یاولسوالۍ والی علامه نه ده اونه دجُمعې دجائزوالی علامه ده، دامحض دیوچا غلط بیان دی چی دنورو قریب وجوار دکلیو مړی هلته دفن کیدل یا غورځول کیدل دجُمعې دجواز دلیل دی، ددی هیڅ اصل په شریعت کی نسته (اوپه سوال کی دالیکل چی په هندوستان کی دجُمعې په شرائطوکی سلطان یانائب دسلطان وغیره مفقوددی. په دی وجه په هندوستان کی هیڅ ځای هم جُمعه درست کیدل نه دی په کار، نودا غلطه ده، اودفقهی دکتابونو دعبارتونو اودتصریحاتو څخه دناخبرتیا په وجهی سره ده، داشرط هلته دی چی داسلام بادشاه وی نوپکار ده چی هغه پخپله دجُمعې امام سی اویا دهغه نائب اومأذون دی وی، اوپه کم ځای کی چی داسلام بادشاه نه وی هلته چی مسلمانان په خپلو کی په رضامندی سره ځوك چی دجُمعې امام مقرر کړی نوهغه دی دجُمعې امام سی، اودجُمعې لمونځ هلته واجب اواداء سی، په درمختار کی دی، ونصب العامة غیر معتبر مع وجود ذکر اما مع عدمهم فیجوز لضرورة وقال فی الشامی فلو الولاة کفارًا یجوز للمسلمین اقامة الجمعة ویصیر القاضی قاضیًا بتراضی المسلمین الخ. ([4]) فقط

په ښار اوقصبو کی داحتیاط الظهر ضرورت نسته: **سوال**: (٢٣٣٧) په ښارو اوقصبو کی احتیاط الظهر ضرور کول په کاردی اوکه نه؟

جواب: په ښارو اوقصبوکی چونکه جُمعه دشبهی اوتردد څخه بغیر کیږی لهذا دجُمعې څخه وروسته احتیاط الظهر کول نه دی په کار څنګه چی په درمختار کی یی دصاحب بحرؒ فتوٰی نقل فرمایلی ده : وفی البحر وقد افتیت مرارًا بعدم صلوٰة الاربع بعدها بنیة

([1]). ایضا ج١ ص ٧۴٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٨ . ظفیر
([2]). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧۴٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٨ . ظفیر
([3]). ردالمحتار باب العیدین ج١ ص٧٧٥ ، ط. س. ج٢ ص ١٢٧ . ظفیر
([4]). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٥١ ، ط. س. ج٢ ص ١۴۴ . ظفیر

اخر ظهر (١) خوف اعتقاد عدم فرضية الجمعة وهو الاحتياط فی زماننا الخ. فقط

په جُمعه کی تلواری مقصود ده: **سوال**: (۲۳۳۸) دانجمن اسلاميه انباله زير اهتمام يو جامع جومات دی چی په هغه کی دانجمن دطرف څخه يوامام مقرر دی څوواره هغه ته وويل سوه چی داستحباب دوجی څخه دجُمعې په لمانځه کی تلواری مه کوه او داحنافو داحکامو مطابق دکافی انتظار څخه وروسته دجُمعې لمونځ اداء کوه، آيا امام ته جُمعه ژر کول څنګه دی؟

جواب: داحنافو په نزد دجمهورو دقول موافق په جُمعه کی ابراد يعنی تاخير مشروع نه دی، بلکی جُمعه دزوال څخه وروسته ژر کول ښه دی (قال فی الشامی لکن جزم فی الاشباه من فن الاحکام انه لا يسن لها الابراد الخ (٢). نو معلومه سوه چی دامام دافعل چی دجُمعې لمونځ ژر کوی دشريعت موافق دی. لهذا انجمن وغيره ته داحق نسته چی هغوی امام دجُمعې دتعجيل څخه منع کړی. فقط

دجُمعې دپاره مستحب وخت: **سوال**: (۲۳۳۹) دحنفی عقائدو په موجب نن صبا دجُمعې دلمانځه دپاره مستحب وخت څه دی؟

جواب: داحنافو صحيح مذهب دادی چی په جُمعه کی تعجيل مستحب دی، ابراد يعنی تاخير کم چی دګرمی په موسم کی دماپښين په لمانځه کی مستحب دی، هغه په جُمعه کی نسته، بلکی جُمعه ژر اداء کول مستحب دی، او داحاديثو څخه هم دجُمعې تعجيل ثابتيږی، نو دزوال څخه وروسته مثلاً دولس نيمی بجی دجُمعې اذان کيدل په کاردی، بيا لس پنځلس منټه وروسته خطبه اودهغه څخه وروسته لمونځ کول په کاردی، مثلا تريوی بجی پوری دی داټول کارونه وسی ياڅه اندازه کم يا زيات دی وی، قال فی رد المحتار لکن جزم فی الاشباه من فن الاحکام انه لايسن لها الابراد الخ ثم قال: وقال الجمهور ليس بمشروع لانها تقام بجمع عظيم فتأخيره مفض الی الحرج، (٣) شامی جلد اول صفحه ۲۴۵، نوپه داسی امورو کی امام ته دمستحبو وختونو رعايت په کار دی، دمتولی په هداياتو باندی عمل کول ضروری نه دی، اومتولی ته دهداياتو کولو حاجت هم نسته، کم وختونه چی دلمونځونو مستحب دی امام به پخپله دهغه رعايت کوی. فقط

دجُمعې په قعده کی په شامليدلو سره دجُمعې لمونځ اداء سو: **سوال**: (۲۳۴۰) يوسړی دجُمعې دلمانځه په آخری قعده کی شامل سو نو ايا دجُمعې لمونځ يی اداء سو اوکه نه؟

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٧ ، ط.س. ج٢ ص ١٣٨ . ظفير

(٢). رد المحتار کتاب الصلوٰۃ ج١ ص ٣٤٠ . ظفير

(٣). ردالمحتار کتاب الصلوٰۃ مطبوعة درسعادت ص ٣٤٠ – ٣٤١ ، ط.س. ج٢ ص ٣٢٧ . ظفير

جواب: دجُمعې لمونځ یې ادا سو، (١) فقط

دوهم اذان څخه وروسته به نه په ژبې سره دعاء ویل کیږي اونه به جواب ورکول کیږي:

سوال: (٢٣٤١) دخطبې داذان څخه وروسته دعاء ویل او داذان جواب ورکول جائزدي اوکه نه؟

جواب: دخطبې داذان جواب ورکول اودوسیلې دعاء ویل فقهاء وو مکروه لیکلي دي. فی الدرالمختار قال وینبغی ان لایجیب بلسانه اتفاقا فی الاذان بین یدی الخطیب (٢). فقط

جُمعه په کلیو کې: **سوال**: (٢٣٤٢) نن صبا په کلیو کې دجُمعې په جواز اوعدم جواز کې داحنافو دعلماء رایې مختلفې دي، بعضې حضرات دې طرف ته تللي دي چې په کلیوکې جُمعه کول په کاردي اوبعض په کلیوکې دجُمعې څخه خلاف دي. اودمصر تعریف امر مختلف فیه معلومیږي، مخکې فریقې کم چې په کلیوکې دجُمعې دجواز قائل دي هغوی دمصر تعریف داسې کوي چې په کم موضع کې دوه زره (٢٠٠٠) ابادي وي هغه ته موږ مصر ویلې سو، بل دکم موضع اوسیدونکې چې دهغه ځای ترټولو په لوی جومات کې ځائیدلې نسي، دوهم فریقه وایې چې مصر هغه ځای دي په کم کې چې بازار وغیره ضروریات پیدا کیږي، داشرطونه خو دامام اعظم دمذهب مطابق دي اومفقود دي، لهذا هغه موضع چیرې چې تعریف دفریق اول نه پیدا کیږي، که دهغه ځای خلګ دائمه ثلثه وو په مذهب باندې عمل وکې نوجائز به وي اوکه نه؟ ولې چې نن سبا په ډیرو مسائلو کې دامام شافعي دتقلید حکم دفتنې دلیرې کولو په غرض ورکول کیږي لکه په مسئله دمفقود کې، په دې مسلك کې که عمل درآمد په مسلك دفریقِ اول وسی، څنګه چې دهندوستان (پاکستان) په کلیو کې جاري دي. داجائزدي اوکه نه؟ اوپه کم ځای کې چې دا شرائط مفقود دي که هغه خلګ دشافعي مذهب مطابق دجُمعې لمونځ اداء کړي نو جائز دي اوکه نه؟

جواب: کلې په دوه قسمه دي، قریه کبیره اوقریه صغیره (یعنی لوی کلی اوکوچنی کلی) فقهاء وو قریه کبیره دولسوالۍ اودښار په حکم کې ګرځولې ده اوپه هغه کې یې دجُمعې دوجوب فتوی ورکړیده، کما فی الشامی وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ،(٣) ص **٥٣٧** جلد اول، اوپه قریه صغیره (یعنی کوچنی کلی) کې دحنفی

---

(١). ومن ادرکها (ای الجمعة) فی تشهد اوسجود سهو علی القول به فیها یتمها جمعة الخ وینوی جمعة لا ظهرا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٧٧ ، ط. س. ج٢ ص ١٥٧. ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان ج١ ص ٣٧١ ط. س. ج٢ ص٣٩٩. ظفیر

(٣). ردالمحتار باب الجمعة مطبوعه درسعادت ج١ ص٧٤٨ ط.س. ج٢ ص١٣٨). ظفیر

فقهاء وو په اتفاق سره جُمعه صحیح نه ده، کما فی الشامی وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة (۱) الخ وفی باب العیدین من الدر المختار وفی القنیة صلوٰة العید فی القری تکره تحریما ای لانه اشتغال بما لایصح لان المصر شرط (۲) الصحة، وفی الشامی قوله صلوٰة العید ومثله الجمعة الخ (۳) باقی پاته سوه داچی په کمه قریه کی دوه زره (۲۰۰۰) بنی آدمان ابادوی اوکه هلته دکانونه هم وی نوکه چیری هغه قریه کبیره وګرځول سی نومستبعده نه ده، که دری ځلور زره بنی آدمان اباد وی نوبیا دهغه په قریه کبیره کیدلو کی شبهه نه معلومیږی په اکبر مساجدکی دهغه ځای دمکلفینو دنه ځائیدلو تعریف ضعیف دی لکه څنګه چی دمنیه صاحب داخبره بیان فرمایلی ده چی داتعریف پخپله دحرمینو شریفینو په جوماتونو باندی صادق نه راځی. کما هو ظاهر. اوحنفیانو ته په دی مسئله کی فقهاء وو دنورو امامانو په مذهب دعمل کولو اجازه نه ده ورکړی او موږ ددی خبری پایبنده یو چی په کم ځای اوکمه مسئله کی زموږ فقهاء وو فتوٰی دنورو په مذهب باندی ورکړیده په هغه باندی به عمل کول کیږی کنی نه. دمفقود الخبر دښځی په باره کی حنفی فقهاء وو دامام مالك رحمه الله پر مذهب باندی فتوٰی ورکړیده په هغه باندی به عمل کول کیږی، هم دغه رکم په کمه مسئله کی چی دفقهاء وو تصریح ده هلته عمل کول کیږی اوپه کم ځای کی چی ددغه حضراتو تصریح نسته هلته عمل نسو کولی.

دجُمعې دخطبې په شروع کی تعوذ اوتسمیه: **سوال**: (۲۳۴۳) دجُمعې دخطبی په شروع کی اعوذ اوبسم الله په جهر سره ویل درست دی اوکه نه؟

جواب: دخطبې په شروع کی دی اعوذ بالله اوبسم الله په جهر سره نه وایی (۴). فقط

په کلیوالو باندی جُمعه فرض نه ده: **سوال**: (۲۳۴۴)

ماقولکم ایها العلمآء الکرام من الاحناف العظام فی هذه المسئلة ان صلٰوة الجمعة واجبة علی اهل القری ام لا ؟ بینوا بجواب شافٍ وتؤجروا بثوابٍ وافٍ .

جواب: (۱) ، (دبعضو علماء څخه)

الجمعة علی اهل ا لقری لیست بواجبة لقوله ﷺ لا جمعة ولا تشریق ولا صلوة فطر ولا اضحی الا فی مصر جامع او مدینة عظمیة فی فتح القدیر ان قوله تعالی فاسعوا الی ذکر الله لیس علی

---

(۱). ردالمحتار باب الجمعة مطبوعه درسعادت ج۱ ص۷۴۸ ط. س. ج۲ ص ۱۳۸). ظفیر

(۲). ردالمحتار ج۱ ص ۷۷۵ ط. س. ج ۲ ص۱۶۷. ظفیر

(۳). ایضاً . ظفیر

(۴). ویبدا بالتعوذ سرا (درمختار) ای قبل الخطبة الاولی بالتعوذ سراثم بحمدالله تعالی والثناء علیه (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۵۹ ط. س. ج۲ ص ۱۴۹). ظفیر

اطلاقه اتفاقا بين الائمة اذ لا يجوز اقامتها فى البوادى اجماعاً ولا في كل قرية عند الشافعى فكان خصوص المكان مراداً بالاجماع فقدر الشافعى القرية الخاصة وقدرنا المصر وهو اولى لحديث على ﷺ وهو لو عورض بفعل غيره كان على مقدماً عليه فكيف ولم يتحقق معارضة ماذكرنا اياه ولهذا لم ينقل عن الصحابة ﷺ انهم لما فتحوا البلاد واشتغلوا بنصب المنابر والجمع فى الامصار دون القرى ولو كانت لنُقل ولو احاداً ، وايضاً ان الجمعة فرضت على النبى ﷺ وهو بمكة قبل الهجرة كما اخرجه الطبرانى عن ابن عباس ﷺ فلم يكن اقامتها من اجل الكفار فلما هاجر النبى ﷺ ومن هاجر معه من اصحابه الى المدينة بعث رسول الله ﷺ فى بنى عمرو بن عوف بضع اربعة عشر أيام ولم يصل الجمعة فهذا دليل على عدم الجمعة في القرى والا صلى ﷺ الجمعة ومع ان البخارى روى فى صحيحه كان الناس يتناوبون وفى رواية يتناولون الجمعة من منازلهم والعوالى فياتون فى الغبار فيصيبهم الغبار ويخرج من العرق الحديث وفى القدورى لا تصح الجمعة الا فى مصر جامع او فى مصلى المصر ولا تجوز فى القرى .

وقال المولانا بحر العلوم فى اركانه تحت قوله تعالى يايها الذين امنوا اذا نودى للصلوة من يوم الجمعة الخ المراد من وذروا البيع اى يحرم البيع ويجب السعى الى الجمعة بعد سماع النداء ، ثم ان البيع قد يطول الكلام فيه فيفوت الخطبة والجمعة لان التجار لايتركون صفقاتهم فى هذا الزمان فلذا منع من النداء الاول فالبيع والشراء فى المصر ظاهر، وقال ايضا فيه ويكره للمريض وغيره من المعذورين ان يصلوا الظهر يوم الجمعة بجماعة ولاباس بالجماعة للظهر للقرى لان الجمعة جامعة للجماعات فى المصر فعلم ان المصر شرط بوجوب الجمعة مشروع لانه جاء التوارث من لدن رسول الله ﷺ الى هذا الآن ان لايصلى الجمعة اهل البدو والقرى فالعمل على قول صاحب القدورى لازم على المقلدين لان قوله مطابق لمذهب الحنفى واتبعوه، ورجحوه جمهور فقهاء المحققين ولم ينكره احد من علماء الحنفين كمافى رد المحتار فعلينا اتباع مارجحوه وما صححوه كما لو افتونا فى حياتهم، الحق احق بالاتباع والمقلد الذى يخالفه فحكمه غير جائز كما فى درالمختار واما مقلد الذى فلا ينفذ قضاءه بخلاف مذهبه اصلا فشرط المصر لصحة الجمعة محقق عند جمهور الحنفية بلا انكار احد لكن الاختلاف بينهم فى تعريف المصر البتة فقال الامام الشافعى موضع فيه بنيان غير منتقلة ويكون المقيمون اربعين رجلا من اصحاب المكلفين فاذا كان كذالك لزمت الجمعة، واختلف الروايات من مذهبنا ففى ظاهر الرواية بلدة لها امام اوقاض يصلح لاقامة الحدود، وفى فتح القدير قال الامام ابوحنيفه رحمه الله بلدة فيها سكك واسواق ووال ينتصف المظلوم من الظالم وعالم يرجع اليه من الحوادث وفى رواية عن الامام ابى يوسف رحمه الله المصر موضع يبلغ المقيمون فيه عددًا لايسع اكبر

مساجد اياهم فى الهدايه هو اختيار البلخى وبه افتى اكثر المشائخ لما رأو افساد اهل الزمان والولاة وعنه ايضا كل موضع فيه يسكن عشرة الاف رجل، وعنه ايضا ان كل موضع له امير وقاض ينفذ الاحكام ويقيم الحدود وهو اختيار الكرخى كذا فى الهداية، وقال بعضهم هو ان يعيش كل محترف بحرفة من سنة الى سنة من غير ان يحتاج الى حرفة اخرٰى، وقال بعضهم هوان يكون بحال لو قصدهم عدد يمكنهم دفعه وقال بعضهم ان يولد فيه كل يوم ويموت فيه انسان، وقال بعضهم هو ان لايعرف عدد اهله الا بكلفة ومشقة فمختار اكثر الفقهاء مراعاة لضرورة زماننا والمفتى به عند جمهور المتاخرين فى تعريف المصر الرواية المختار للبلخى اى ما لايسع اكبر مساجده اهله المكلفون بها، وقال ابو شجاع هذا احسن ماقيل فيه وفى الولوالجية وهوصحيح بحر، وعليه مشى فى الوقايه ومتن المختار وشرحه وقدمه فى متن الدرر على القول الاخر وهو ظاهره ترجيحه ، وأيّده صدر الشريعة بقوله لظهور التوانى فى احكام الشرع سيماً فى اقامة الحدود فى الامصار فكل موضع يصدق عليه التعريف المذكور فهو مصر تجب الجمعة على اهله والا فلا تجب سواء ذلك الموضع يتعارف بقرية او دونها غير المصر فالان هى لاحقة فى حكم المصر شرعاً لا عرفاً لتطبيق تعريف المتأخرين وهذا احسن وما لا يصدق عليه التعريف المذكور فهو ليس بمصر شرعاً وعرفاً ففى لفظ القرية اعتباران شرعاً بحيث ترسم به وبحيث لا ترسم ففى الاول تصح الجمعة وهى مدينة عظيمة او قرية كبيرة وفى الثانى لا تصح الجمعة وهى قرية صغيرة ومفازة ومثلها كما يدل عليه عبارة القهستانى وتقع فرضاً فى القصبات والقرى الكبير فيها أسواق وفى البحر لا تصح فى قرية ولا مفازة لقول على ﷺ : لا جمعة ولا تشريق ولا صلٰوة فطر ولا اضحٰى الا فى مصر جامع او مدينة عظيمة ، ثم قال فلا تجب على غير اهل المصر كذا فى الطحطاوى فبينهما عموم وخصوص فتنبه بالدلائل المذكورة فرضية الجمعة مخصصة بالاجماع فان صلى الجمعة اهل قرية لا يقال لها مصر شرعًا لا يسقط الظهر عن ذمته وان صلى الظهر فرادى يعصى بكبيرة لترك الواجب اى الجماعة الظهر باداء جماعة النفل هذا من قباحة عظيمة فان الجمعة جامعة للجماعات وفى اداء الظهر بالجماعة تفريق الجماعة عن الجمعة وتقليلها فيكون ذالك فى حقهم كسائر الايام فى جواز اداء الظهر بالجماعة من غير كراهة (مجالس الابرار) فالقول لمن يقول ما الفرق بين الجمعة والظهر غير الخطبتين وصحت الجمعة بلا كراهة فى كل موضع مثلاً الظهر سواء كان ذالك الموضع مصرًا اوقرية اوغيره وتاركها بلا عذر فاسق وعاص ومردود وقائله ضال ومضل ليس من المقلدين وعلى المقلدين الاجتناب عن اقواله وافعاله ومصاحبته. والله اعلم وعلمه احكم.

کتبه ابو الفیض محمد حبیب الرحمٰن غفر له

(۲) **جواب**: دحضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب:

بیشکه په کوچنی کلی کی دحنفیانو په نزد جُمعه صحیح نه ده، اوپه کوچنی کلی کی جُمعه کوونکی دمکروه او دممنوع کار مرتکب وی اوپه لوی کلی اوقصبو کی جُمعه صحیح ده، کما فی رد المحتار عن القهستانی: وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الی ان قال وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر (۱)، وفی باب العیدین من الدر المختار صلوٰة العید فی القری تکره تحریما وفی الشامی قوله (صلوٰة العید) ومثله (۲) الجمعة الخ. فقط والله تعالی اعلم

کتبه : عزیز الرحمٰن عفی عنه

(۳) **جواب**: دحضرت علامه محمد انور شاه صاحب مدرس دار العلوم

عبارات اصحابنا فی تفسیر المصر کلها متوافقة فی المعنٰی وانما اختلفت التعبیرات والالفاظ فاشتراط القاضی فی ظاهر الروایة بناء علی اشتراط المصر لنفاذ القضاء فی ظاهر الروایة ایضاً کما فی التنویر من باب القضاء وتعریف المتأخرین بانه لا یسع آه مبنی علی تعدد المساجد هناك لکثرة الابنیة قال الی القریة الکبیرة وفی العنایه زیادة ما لایسع اکبر مساجده اهل المکلفین بها حتٰی یحتاجوا الی بناء مسجد جامع والحاصل ان تفسیر المصر محول علی العرف واللغة. نعم فی بعض عباراتهم ان القریة الصغیرة مجتهد فیها عندنا فینفذ قضاء القاضی الشافعی بصحتها علی الحنفی فی ضمن دعوی صحیحة لا اذا کانت فتوٰی لا دعوی من حاضر علی حاضر.

کتبه محمد انور عفا الله عنه، مدرس دار العلوم دیوبند

دوهم اذان دمنبر سره کول په کاردي: **سوال**: (۲۳۴۵) دجُمعې دوهم اذان دمنبر سره پکار دی اوکه دجومات څخه دباندی اوکه دجومات په دروازه باندی که چیری عند المنبر کول په کاروی نو ددی سند څه دی دابوداود شریف دحدیث پاك څخه خو دا ثابتیږی چی دحضور ﷺ په زمانه کی به دا اذان دجومات په دروازه کی کیدی، اومولانا عبد الحی صاحب دخپلی فتاوٰی په ص۱۹۴ کی په ډیر وضاحت سره ثابت کړی دی چی دوهم اذان دجومات څخه دباندی کول په کاردی، بینوا وتؤجروا؟

جواب: دجُمعې دوهم اذان داحنافو په نزد په جومات کی دمنبر په خواکی کیدل سنت دی اوهمدا (طریقه) متوارثه ده دزمانی درسول الله ﷺ اودزمانی دصحابه کرامو ﷺ څخه لکه څنګه چی دهدایی شارحینو داخبره په پوره توګه ثابته اومحققه کړیده او دابوداود شریف [دحدیث] تأویل اوجواب داحنافودطرف څخه مفصل شائع سویدی په ډیرو رسالو

(۱). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۸ ، ط.س. ج۲ ص ۱۳۸ . ظفیر

(۲). ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص۷۷۵ ط.س. ج۲ ص ۱۲۷. ظفیر

اوفتاووکی داخبره مفصله لیکل سویده تاسی دغه رسائل اوچاپ سوی فتوٰی راوغواړی اووی ګوری، بنده ته دهغه دنقل کولو فرصت نسته، حنفیانو ته په هغه کی دچون اودچرا ګنجائش نسته ولی چی دفقهی په تولو معتبرو کتابونو کی یی دا اذان دمنبر په خوا کی خطیب ته مخامخ لیکلی (١) دی. فقط

کم دوه جوماتونه چی نژدی نژدی وی په دواړو کی دجُمعي لمونځ درست دی: **سوال:** (۲۳۴۲) دوه جوماتونه متصل اونژدی نژدی واقع دی، ایاپه دغه دواړو کی جُمعه درسته ده اوکه نه؟

جواب: په دواړو کی دجُمعي لمونځ درست دی. کذا فی الدر المختار (٢). فقط

ولسوالی اولویه ابادی: **سوال:** (۲۳۴۷) دقهستانی دعبارت: وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة فیها اسواق، څخه مفهومیږی چی دجُمعي لمونځ دحنفیانو په نزد په کوچنی کلی کی درست نه دی اوقریه کبیره (لوی کلی) دمصر په تحت کی واقع دی. لهذا ملتجی یم چی دقریه صغیری اودقریه کبیره تفصیلی تعریف په دلائلو سره بیان کی اوما لایسع الخ دمصر اجمالی تعریف دی، اودقریه کبیره دپاره څومره مکلفین پکار دی اوڅه رکم چی دمفقود په باره کی احنافو ضرورتًا دامام مالك په مذهب باندی فتوٰی ورکړیده، دجُمعي په باره کی مذهب شافعی اختیارولی سو اوکه نه؟

جواب: دقهستانی عبارت مذکوره فی السوال چی په کم ځای کی په شامی کی منقول دی **دهغه څخه وروسته داعبارت هم دی:** وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر وخطیب کما فی المضمرات والظاهر انه ارید به کراهة النفل بالجماعة الا تری انّ فی الجواهر لو صلوا فی القرٰی لزمهم اداء الظهر (٣) الخ شامی جلد اول باب الجمعة، **اوپه درمختار باب العیدین کی دی:** وفی القنیة صلٰوة العید فی القری تکره تحریمًا ای لانه اشتغال بما لا یصح لان المصر شرطا لصحة ؒ **په شامی کی دی:** قوله صلٰوة العید ومثله الجمعة. (٤) ص٥٥٥ شامی ج ١.

ددی عبارتونو څخه معلومه سوه چی په کوچنی کلی کی جُمعه درسته نه ده، اوپه لوی کلی کی صحیح ده، اودقریه کبیری تعریف جلا نه کول اودقصباتو سره یی بیانول، دی

---

(١). ویؤذن ثانیا بین یدیه ای الخطیب (الدر المختار) قوله ویؤذن ثانیا بین یدیه ای علی سبیل السنیة کما یظهر من کلامهم (رد المحتار باب الجمعة ج١ ص٧٧٠ ، ط.س. ج٢ ص١٢١). ظفیر

(٢). وتؤدی (ای الجمعة) فی مصر واحد بمواضع کثیرة مطلقا علی المذهب وعلیه الفتوٰی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة) ج١ ص٧٥٥ ط.س. ج٢ ص ١٤۴. ظفیر

(٣). شامی باب الجمعة ج١ ص٧۴٨ ، ط.س. ج٢ ص ١٣٨ . ظفیر

(۴). ایضاً پورتنۍ حواله.

طرف ته اشاره کوی چی ددی مدارپه عرف باندی دی اواهل عرف دقریی کبیری اودقریی صغیری فرق پیژنی اودا چی قریه کبیره په شان دولسوالۍ کیدل په کار دی. ددی دپاره ددی ځای محققینو عالمانو دافرمایلی دی چی کمه قریه دابادی په لحاظ سره ولسوالۍ صغیره ته نژدی وی په هغه کی به جُمعه درسته وی ، اوپه ولسوالۍ صغیره کی په دی اطرافوکی دری څلور زره بنی ادمان وی یاکم اوزیات. اوتعریف دما لا یسع ؒ په حقیقت کی دمصر حد حقیقی نه دی. کنی منقوض کیدل ددی ظاهر دی چی دا دکوچنۍ ښخه پر کوچنۍ قریه باندی صادق راځی، اوکله ناکله دلوی ښخه پرلوی ښار باندی صادق نه راځی، لکه څنګه چی پخپله دحرمینو شریفینو پرجوماتونو باندی صادق نه راځی، ځکه چی مسجد حرام دټولو اهل مکه وو ښخه بلکه چی دبهر والا خلګ ورسره یوځای سی نو هم هیڅکله نه ډکیږی اووسعت په هغه کی باقی وی. کما هو المشاهد. اودانقض په هغه تعریف باندی دمنیه شارح (دغنیة مصنف) هم بیان فرمایلی دی، نومعلومه سوه چی دا د مصر تعریف حقیقی نه دی بلکی علامه دمصر په غالب اعتبار سره ده، ځکه چی په لویو لویو ښارونو کی چیری چی مردم شماری ډیره زیاته وی غالبا داسی وی چی دهغه ځای ترټولو په لوی جومات کی هم دهغه ځای ټول مکلفین ځای کیدی نسی نو محققه دی وی چی تعریف مذکوره عام تعریف نه دی، پاته سوه داخبره چی په دی مسئله کی دامام شافعی په مذهب باندی په عمل کولو سره دهغوی دقیودو موافق په قریه کی دجُمعې لمونځ کولی سو اوکه نه؟ نوبنده ددی تصریح دفقهاوو په کلام کی نه ده لیدلی، اوعمل کول دبل امام په مذهب باندی په هغه ځای کی زموږ دخلګو دپاره صحیح کیدی سی چیری چی زموږ فقهاء وو تصریح فرمایلی وی. (۱) فقط

الجواب صواب. اودبعضو فتاواو دعباراتو ښخه معلومیږی چی په قریه صغیره کی جُمعه عند الحنفیه مجتهد فیه نه ده، البته په یوه دعوٰی کی وروسته ترتوقُّر دشرائطو ددعوی، مجتهد فیه ده. په فتوٰی او دیانت کی. فقط محمد انور عفا الله عنه

<u>په اردو ژبه کی خطبه داحتیاط ښخه خلاف ده</u>: سوال: (۲۳۴۸) جناب ته می یو وار دوه دخطبی داُردو نظم وغیره په باره کی تکلیف ورکی لیکن دی طرف ته موتوجه ونه کړه، خاصو کسانو ته مو وویل نوهغوی وفرمایل چی لوی لوی عالمان یی پخپله کوی بلکی هغوی وایی چی حدیث دنبی ﷺ : یقرأ القرآن ویذکر الناس، دی، اودمشکوٰة په ترجمی مظاهر حق کی یی ددی په ترجمی اوتشریح کی صفا لیکلی دی چی په غیر عربی ژبه کی

---

(۱). رد المحتار باب العیدین ج ۱ ص ۷۷۵ . ظفیر

نصیحت په خطبه کی درست دی، او داخترونو په خطبه کی حکم دی چی دقربانی احکام او دعید الفطر احکام خلګوته وښوول سی اودا بغیر دملکی ژبی څخه ممکن نه دی.

جواب: خطبه چونکه دعربی ژبی څخه بغیر په بله یوه ژبه کی دسلفو څخه ثابته نه ده نوپه دی وجه دعربی ژبی څخه بغیر په بله ژبه کی محققینو دی ته مکروه اوبدعت ویلی دی اوپه عید الفطر او په عید الاضحیٰ کی چونکه داخترونو احکام ښوول مقصوددی نوهغه خارج عن الخطبه ګڼل کیږی، ګویا خطبه دعربی بیله سوه اودا احکام دخطبی څخه جلا ښوول کیږی او دجُمعې په خطبه کی دننه دلمانځه حیثیت هم ملحوظ وی، اوپه لمانځه کی دقرآن شریف ترجمه دصحیح او دمعتبر مذهب او دراجح قول مطابق درسته نه ده، او دضعیف او دمرجوح قول اعتبار نسته، بهر حال احتیاط په دی کی دی چی په داسی مختلف فیه خبره کی دی احتیاط وسی، اوغیر عربی دی ترك سی، باقی چی څنګه څوك کوی هغه دهغه رایه ده پرنورو باندی حجت نه (١) دی. فقط

(لمونځ به په دواړو صورتونو کی درست وی. ظفیر)

په رمضان کی جمعة الوداع ثابت نه ده: **سوال**: (٢٣٤٩) درمضان شریف په اخری جُمعه کی په خطبه کی الوداع ویل څنګه دی؟

جواب: خطبة الوداع درمضان المبارك په اخره کی ثابته نه ده او ددی ویل مناسب نه دی.

که په خطبه کی دصحابه کرامو ﷺ ذکر رانه سی نوهم به خطبه درسته وی: **سوال**: (٢٣٥٠) یوسړی دجُمعې امام په اوله خطبه کی حمد اوثنا دباری تعالی وایی، اوپه دوهمه خطبه کی قرانی آیتونه اودرود شریف وایی، ذکر دآل اطهار او اصحاب کبار رضوان الله تعالی علیهم اجمعین نه کوی، نوپه داسی حالت کی لمونځ جائز سو اوکه نه؟

جواب: ذکر دخلفاء راشدینو اودآل اطهار رضوان الله تعالی علیهم اجمعین په خطبه کی مستحب دی. ددی په ترك سره خطبه خو به اداء سی، لیکن ترك دمستحب لازمیږی، ښه داده چی دخلفاءِ راشدینو اودآل اطهار ذکر دی هم کوی، قال فی الدر المختار: ویندب ذکر الخلفاء الراشدین والعمین المکرمین الخ. (٢) فقط

دخطبی داذان جواب په ژبی سره درست نه دی: **سوال**: (٢٣٥١) دخطبی داذان جواب ورکول

---

(١). ولا یشترط کونها بالعربیة فلو خطب بالفارسیة اوبغیرها جاز کذا قالوا ، والمراد بالجواز هو الجواز فی حق الصلاة بمعنی انه یکفی لاداء الشرطیة وتصح بها الصلاة ، لا الجواز بمعنی الاباحة المطلقة فانه لا شك فی ان الخطبة بغیر العربیة خالف السنة المتوارثة من النبی ﷺ والصحابة ﷺ . (عمده الرعایة علی حاشیة شرح الوقایه باب الجمعة ج١ ص٣٤٢). ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٥٩ ط. س. ج٢ ص ١٤٩. ظفیر

ورکول او په لاسونه پورته کولو سره دعاء غوښتل څنګه دی؟

جواب: دجُمعې ددوهم اذان جواب ورکول او دهغه څخه وروسته په لاس پورته کولو سره دعاء کول ممنوع دی. کما فی الدر المختار (۱). فقط

په داسی کلی کی جُمعه دکم ابادی چی ۱۲۵۴ ده: **سوال**: (۲۳۵۲) یولوی کلی دکم ابادی چی ۱۲۵۴ سړی دی اومدرسه اوجوماتونه هم پکښی سته او ددی علاقی دخوا اوشاه خلګ دېخوا راهیسی دا لوی کلی ګڼی، نوپه دی کی جُمعه جائزده اوکه نه؟

جواب: علامه شامی داتصریح فرمایلی ده چی په قریه کبیره کی جُمعه فرض ده او اداء کیږی عبارت یی دادی: وتقع فرضا فی القصبات والقریٰ الکبیرة التی فیها اسواق الخ الی ان قال وفیما ذکرنا اشارة الی انها لا تجوز فی الصغیرة الخ (۲). ددی عبارت فرق ما بین القریة الکبیرة والصغیرة څخه ښکاره سوه چی په قریه کبیره (یعنی لوی کلی) کی جُمعه اداء کیږی اوپه صغیره (یعنی کوچنی) کی نه کیږی، اوپه عرف کی چی خلګ کم کلی غټ ګڼی هغه غټ کلی دی، اوکم کلی چی کوچنی ګڼی هغه کوچنی کلی دی.

دافضل په موجودګی کی بل څوک امام جوړول: **سوال**: (۲۳۵۳) یوڅو مقتدیانو جاهلانو دجومات دامام سره چی عالم دی دنیوی عداوت واخستی، او دده داجازی څخه بغیر یې یوبل منشی چی ددینی علم څخه چندانی خبرنه دی مقرر کی، اوداخترونو لمونځونه اداء کوی شرعًا څه حکم لری. ددنیوی فساد په وجه په بل جومات کی جُمعه اوپنځه وختیز لمونځونه اداء کول څه حکم لری؟

جواب: دفقهی په کتابونوکی یی لیکلی دی چی، والاحق بالامامة الاعلم باحکام الصلوة، (۳) نو سره دوجودوالی دعالم په مسائلو دلمانځه بل څوك چی دغسی (عالم) نه وی، امام مقررول ترك فضیلت دی اوپه یوښار کی دجَمعو تعدد جائز دی، نوکه هغه ښار داسی وی چی په هغه کی بازاردی مصر یاولسوالی یاقریه کبیره ده چی حکم دمصر لری دجُمعې او داخترونو لمونځ پکښی اداء کیږی اوتعدد دجَمعی هم روادی نودجُمعې لمونځ په دواړو مسجدوکې جائز دی، مګر نفسانیت دلمانځه په باره کی قبیح دی ضد اونفسانیت پریږدی او خالصًا دالله ﷻ دپاره لمونځ په هرو دواړو جوماتونو کی اداء کړی، والله تعالیٰ الموفق والمعین وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین. فقط

په پنځوسو سړیو سره دجُمعې لمونځ درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۳۵۴) دحضرت شاه ولی

(۱). حواله مخکی تیره سوه . ظفیر
(۲). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ ط. س. ج۲ ص۱۳۸. ظفیر
(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص۵۲۰ ، ط. س. ج۱ ص۵۵۷. ظفیر

الله قدس سرہ قول په حجة الله البالغة کی قابل عمل دی اوکه نه؟ هغه داچی په کم کلی کی پنځوس مسلمانان کسان وی په هغوی کی دجُمعې لمونځ صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دا مذهب دحنفیانو نه دی، حنفیانو ته دخپل مذهب دفقهی دکتابونو موافق عمل کول پکاردی، دحضراتو محققینو په کلام سره حجت راوړل نه دی په کار. فقط

په کوچنی کلی کی دجُمعې لمونځ مکروه تحریمی دی: **سوال**: (۲۳۵۵) په صورة دعدم جواز کی که چیری یو سړی یې نه منی اوکوی یې نوڅه حرج به واقع سی؟

جواب: په کم کوچنی کلی کی چی جُمعه صحیح نه ده هلته یې دجُمعې لمونځ کول مکروه تحریمی لیکلی دی. کذا فی الدر المختار والشامی (۱).

دضرورت په وخت کی پرصفونو اوښتل اومخکی تلل جائزدی: **سوال**: (۲۳۵۶) که چیری دجامع جومات اودعیدگاه امام اومؤذن دلمانځه متعلق دضروری امورو په وجهی سره په اول وخت کی منبر اومصلی ته ونه رسیږی بلکی لمونځ کوونکی جمع کیدل نو وروسته صفونه څیری کړی اودخلګو پرخټونو باندی واوړی مصلی ته ورسیږی نو درست دی او که نه؟

جواب: په درمختار کی دی: لاباس بالتخطی مالم یاخذ الامام فی الخطبة ولم یؤذ احداً الخ. (۲) ددی روایت څخه معلومه سوه چی که چیری چاته ایذاء نه وی نو پرخلګو لوړ اوښتل درست دی، خصوصاً دذکرسوی ضرورت په وجه امام اومؤذن ته په صفونو څیرلو سره مخ ته تلل درست دی. الا ان لایجد الا فرجة امامه فتخطی الیها للضرورة (۳). فقط

دصف سیده کولو دپاره آواز کول درست دی: **سوال**: (۲۳۵۷) دجُمعې دخطبی څخه وروسته دتکبیر تحریمه څخه مخکی زید په اواز سره وویل چی صفونه سیده کړی بکر وایی چی دزید لمونځ صحیح نه سو، آیا دصف سیده کولو دپاره وینا کول مستحب اودرست دی، اولمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: دصف سیده کولو دپاره وینا کول مستحب اومسنون دی، دبکر خبره غلطه (۴) ده، لمونځ وسو. فقط

په دوه زره ابادی کی جُمعه : **سوال**: (۲۳۵۸) په کهیره نومی ځای کی دوه جوماتونه دی ،

(۱). صلاة العید فی القری تکره تحر یما ای لانه اشتغال بما لا یصح (در المختار) ومثله الجمعة (رد المحتار باب صلوٰة العید ج ۱ ص ۷۷۵ ، ط. س. ج ۲ ص ۱۲۷. ظفیر

(۲). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ص ۷۷۲ ط. س. ج ۲ ص ۱۲۳. ظفیر

(۳). ایضاً . ظفیر

(۴). وینبغی ان یامرهم بان یتواصوا ویسدوا الخلل ویسووا مناکبهم (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج ۱ ص ۵۳۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۶۸). ظفیر

او دډنډولی نومی ځای اوکهیره په مینځ کی دیوې ګاډۍ فاصله ده په ډنډولی کی جومات نسته دډنډولی مسلمانان دکهیری جوماتونو ته لمانځه ته راځی مردم شماری ددواړو ځایونو دوه زره ده نو داحنافو په نزد هلته دجُمعې لمونځ جائز دی اوکه نه ؟

جواب: که چیری دغه دواړه کلی په عرف کی یووی اویو ګڼل کیږی اوټوله ابادی ددواړو کلیو دوه زره سړی وی اوهغه غټ کلی ګڼل کیږی نوهلته جُمعه صحیح ده. کما فی الشامی وتقع فرضاً فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ ([1]). فقط

په کلی کی جُمعه: **سوال**: (۲۳۵۹) زموږ په کلی کی دری جوماتونه دی په دوو کی حنفیان دی اوپه یوه کی اهل حدیث. داهل حدیثو په جومات کی جُمعه کیږی، حنفیان خلګ جُمعه نه کوی، نوحنفیانو ته داهلِ حدیثو سره جُمعه کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیری دغه کلی غټ وی چی پکښی بازار وغیره سته، دکم په وجهی سره چی هغه ولسوالۍ غوندی معلومیږی، نو دحنفیانو په نزد هم هلته جُمعه صحیح ([2]) ده، اوپه ډیرو ځایونو کی هم جُمعه جائز ده، نوکه چیری دغه علاقه داسی وی چی په هغه کی جُمعه دحنفیانو په نزد صحیح ده، نوپر حنفیانو باندی لازم دی چی بیل په خپل جومات کی جُمعه وکړی، دغیر مقلدو سره دی نه شریکیږی. اوکه چیری دغه کلی کوچنی وی نو په هغه کی دحنفیانو په نزد جُمعه درسته نه ده، هلته جُمعه مه کوی، نه په خپل جومات کی اونه دغیر مقلدو سره په شامی کی یی لیکلی دی چی په ولسوالۍ کی اوپه هغه لویه ښاریه کی چی پکښی بازار اولوی دکانونه وی جُمعه اداء کیږی اوپه کوچنی کلی کی نه اداء کیږی. ([3]) فقط

په یوه ابادی کی په ډیرو جوماتونو کی په لمبر لمبر جُمعه کول: **سوال**: (۲۳۶۰) زموږ په ولسوالۍ کی دری جوماتونه دی اوپه دری واړو جوماتونو کی به دجُمعې لمونځ بیل بیل کیدی، اوس دځو میاشتو څخه خلګو دامشوره وکړه په خپلو کی، چی دیوی جُمعې لمونځ به په زوړ جومات کی اودبلی جُمعې لمونځ به په بل جومات کی کیږی، اوس په لمبر لمبر دجُمعې لمونځ کیږی دا صورة جائز دی اوکه نه؟

جواب: جُمعه په هر یوه جومات کی جائزده، او دا صورة کم چی په سوال کی درج دی چی

([1]). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ ط. س. ج۲ ص۱۳۸. ظفیر

([2]). وتقع فرض فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ ط. س. ج۲ ص ۱۳۸). ظفیر

([3]). وتقع فرض فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق (الی قوله) فیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض الخ (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ ط. س. ج۲ ص ۱۳۸). ظفیر

يوه جُمعه دى په يوه جومات كى وى اودوهمه جُمعه دى په بل جومات كى اودريمه جُمعه دى په بل جومات كى وى داهم په اصل كى درسته ده، او دجُمعې لمونځ صحيح كيږى، ليكن ښه داده چى كم جومات په هغه كى لوى وى يا پخوانى وى په هغه كى دى جُمعه قائمه سى اوهغه دى جامع مسجد مقرر سى ځكه چى دراجمع كيدو داصورة كم چى په سوال كى درج سوى دى پسنديده نه دى اوپه دى كى دنفسانيت بوى معلوميږى، وافاد ان المساجد تغلق يوم الجمعة الا الجامع الخ. (١) درمختار، ددى څخه معلومه سوه چى دجُمعې دپاره خاص جامع جومات وضع سوى دى، كه څه هم په نورو جوماتونو كى هم جُمعه صحيح ده، فقط

په ځنګلى مقام كى جُمعه درسته نه ده: سوال: (٢٣٢١) په يوځنګلى ځاى كى دخپل خپل كار په سلسله كى تقريبًا پنځه ويشت، ديرش مسلمانان كم از كم دشپږو مياشتو مستقل قيام دپاره جمع سوى دى په دى كى چى په دغه مقام كى نه يوځاى څه مځكنى ابادى وه اونه يوځاى جرمات وو، دغه ذكر سوو مسلمانانو خپل په مابينځ كى نژدى يو سايوان غوندى ځاى وټاكى اوپه هغه كى يى دجُمعې دلمانځه باقاعده بند وبست وكى په كم كى چى دذكر سوى تعداد څخه زيات اوكله ددى څخه څه كم ترڅو جمعو پورى خلګ شريك كيدل. اوناخبره مسلمانانو ته به دلمانځه داركارنو وغيره تعليم هم كيدى، په پرونى جُمعه كى يونوى راتلونكى سړى په دى ويلوسره دجُمعې په لمانځه كى شريك نه سو چى دلته جُمعه ناجائز ده، داصحيح ده اوكه نه؟

جواب: واقعى دفقهى دكتابونو درواياتو موافق په دغه ځاى كى دجُمعې لمونځ صحيح نه دى، دجُمعې دلمانځه دصحت اودوجوب دپاره مصر يعنى ښار ياولسوالى يا قريه كبيره يعنى لوى كلى شرط دى نوپه دغه ځاى كى دجُمعې دلمانځه په ځاى دماپښين لمونځ په جماعت سره كوى اوپه همدى كى دشرعى مسائلو تعليم اوتلقين كوى، په در مختار اوشامى كى دى چى په كوچنى كلى كى دجُمعې او داخترونو لمونځ مكروه تحريمى (٢) دى اوچيرى چى بالكل ابادى نه وى اونه لويه ابادى نژدى وى نو هلته بالاتفاق جُمعه صحيح نه ده. (٣) فقط

په دوه زره ابادى كى د جُمعې لمونځ جائز دى : سوال: (٢٣٢٢) په پلهرى نومى ځاى كى د

---

(١). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٧٢ ، ط. س. ج٢ ص ١٥٧. ظفير

(٢). وتكره تحريما صلاة العيد فى القرىٰ الصغيرة (درمختار) ومثله الجمعة (ردالمحتار باب العيدين ج ١ ص ٧٧٥ ، ط. س. ج٢ ص١٢٧ . ظفير

(٣). ولاجمعة بعرفات فى قولهم جميعا لانها فضاء (هدايه باب الجمعة ج١ ص١٥١. ظفير

مسلمانانو ځلوېښت کورونه دي، دسلو کورونو څخه زيات دهندوانو دي، چي تقريباً دوه زره ابادي ده، چي په هفته کي يکښبې دوى ورځي بازار لګيږي. دري دوکانداران مستقل دضرورت شيان هميشه خرڅوي، دوه جوماتونه اويوه عيدګاه ده، نوپه دغه ځاى کي دجُمعې په باره کي څه حکم دي؟ جُمعه اداء کړو اوکه نه دماپښين لمونځ؟

جواب: دجُمعې په باره کي داحنافو مذهب دادي چي په کوچنى کلي کي جُمعه صحيح نه ده، اوپه لوى کلي او ولسوالۍ کي جُمعه واجب اواداء کيږي، وتقع فرضا فى القصبات والقرى الكبيرة التى فيها اسواق الخ (۱)، اوپه سوال کي ذکرسوى ځاى په ظاهره لوى کلي دي هلته به جُمعه صحيح سي او داحتياط الظهر ضرورت نسته (۲). فقط

په عرفات کي دحضور ﷺ دجُمعې نه کولو وجه: **سوال**: (۲۳۲۳) مولوى محمد اسمٰعيل اهل حديث وايي چي په حجة الوداع کي دعرفات په مقام کي رسول الله ﷺ دحج دخطبې په وجه باندي جُمعه اداء نه کړه، اوفتح الدين حنفى وايي چي حضور ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ په عرفات کي دځنګل والي په وجه جُمعه اداء نه کړله په دي دواړو کي دچا قول صحيح دي؟

جواب: دفتح الدين حنفى قول صحيح دي كما صرح به الفقهاء. (۳) فقط

دجُمعې ددوهم اذان څخه وروسته دعا: **سوال**: (۲۳۲۴) دجُمعې ددوهم اذان څخه وروسته دعا جائز ده اوکه نه؟

جواب: دجُمعې ددوهم اذان څخه وروسته دعاء کول اودهغه جواب ورکول دحضرت امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد درسته نه ده لقوله ﷺ اذا خرج الامام فلا صلاة ولا كلام، كذا فى الهداية (۴) وفى الدر المختار وينبغى ان لا يجب بلسانه اتفاقا فى الاذان بين يدى الخطيب الخ (۵).

ددواړو خطبو په مينځ کي دعاء: **سوال**: (۲۳۲۵) دجُمعې د ورځي ددوو خطبو په مينځ کي

---

(۱). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸، ط. س. ج۲ ص ۱۳۸. ظفير

(۲). دابادي دمردم شماري په باره کي ډير سوالونه راغلي دي اودهر يوه په جواب کي مفتي علام رحمه الله ددي خبري لحاظ کړي دي چي هغه ابادي دهغه ځاى دخلګو په نظر کي دقصبې يادلوى ابادي په توګه مشهوره ده اوکه نه؟ بيا په هغه کي دشهرت بوى پيدا کيږي اوکه نه؟ که چيري دادواړي خبري موجودي وى نوجمعه جائزده کنى نه. والله تعالى اعلم. محمد ظفير الدين غفرله

(۳). ولاجمعة بعرفات فى قولهم جميعا لانه قضاء (هدايه باب الجمعة ج۱ ص۱۵۱). ظفير

(۴). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص۳۷۱، ط. س. ج۱ ص۱۹۹. ظفير

(۵). اذا خرج الامام فلا صلاة ولاكلام الى تمامها (درمختار) الى تمامها اى الخطبة (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۸، ط. س. ج۲ ص۱۲۱). ظفير

داوریدونکو ددعاء څه حکم دی؟

جواب: په ژبې سره دی نه کوی اوکه چیری یی کوی نوپه زړه کی دی وکړی. (١) فقط

که چیری کلی ته دښار داذان اواز راځی نوهم په هغوی باندی جُمعه فرض نه ده: **سوال**: (٢٣٢٦) یوکلی دښار څخه یومیل یا پاو باندی یومیل لیری دی، داذان اواز ورته راځی دکلی پر خلګو باندی ښار ته راتلل اوجُمعه کول فرض دی اوکه نه؟

جواب: جُمعه پرکلیوالو باندی فرض نه ده، که څه هم هغه کلی ښار ته نژدی وی او داذان اواز هم ورته راځی. (٢) فقط

دښار په باغ اوپه ځنګل کی دجُمعې لمونځ درست دی: **سوال**: (٢٣٢٧) په ځنګله یاپه باغ کی دری کسان جُمعه کولی سی اوکه نه؟

جواب: که چیری دغه ځنګل، میدان یا باغ دښار سره متعلق یا متصل وی چی دمصر په فناء کی داخل وی، نوجُمعه هلته کیدی سی اودامام صاحب رحمه الله په نزد دامام څخه ماسوا دری مقتدیان دجُمعې دپاره کیدل ضروری دی. فقط

په غیر عربی خطبه کی اختلاف: **سوال**: (٢٣٢٨) یو بزرګ فرمایی چی په خطبه کی دآیت اودحدیث معنٰی بیانول اوخلګ پوهول درست دی، دجناب والا فتوٰی مو هم هغوی ته وښووله، لیکن هغوی فرمایی چی مسوٰی مصفٰی شرح موطا دحدیث کتاب دی، موږ ته دفقهی دیوه کتاب حواله پکار ده، په شامی وغیره کی جواز لیکی، او دحضور ﷺ خطبه دعجمو په ښارونوکی اودصحابه کرامو رضی الله عنهم، په کم کم ځای کی وویل سوه، اوپه خطبه کی دلمانځه شان نسته، په شامی جلد اول ص ٣٥٧ کی ددر مختار په حواله درج دی، وعلی هذا الخلاف الخطبة وجمیع اذکار الصلوٰة، اوخطبه دامام اعظم رحمه الله په نزد بتمامه په هره ژبه کی جائزده (بغیر دعجز څخه) خلافا لصاحبیه. وقال الشامی بل سیاتی ما یفید الاتفاق علی ان العجز غیر شرط، ددی څه مطلب دی اوپه عجمو کی کمه خطبه ویل سویده، اوپه کم ځای کی؟

جواب: دخطبی په ترجمه کی داخبره ده چی‌که چیری ترجمه ونه سی نوپه هغه کی بالاتفاق څه شبهه نسته، اوپه ترجمه کولو کی اختلاف ظاهردی، موږخلګ یې دفقهاؤ دکلام څخه مخالفت کراهت ګڼو، اودصحابه وو رضی الله عنهم دعمل څخه خلاف (کار) بدعت ګڼو. دنن سبا

---

(١). ومن کان مقیما بموضع بینه وبین المصر فرجة من المزارع والمراعی نحو والقلع ببخارا، لا جمعة علی اهل ذلك المواضع وان کان النداء یبلغهم (عالمګیری کشوری باب الجمعة ج١ ص١٤٣ ط. م. ج١ ص ١٤٥). ظفیر

(٢). وکما یجوز اداء الجمعة فی المصر یجوز اداءها فی فناء المصر (عالمګیری کشوری باب الجمعة ج١ ص٤٣ ، ط. ماجدید ج١ ص١٤٥) . ظفیر

بعضی خلک دانه منی، اودعبارت: وعلی هذا الخلاف الخطبة الخ، مطلب دادی چی دا خلاف په صحت اوپه عدمِ صحت کی دی، په کراهت اوپه عدم کراهت کی نه دی ځنګه یی چی په شامی کی دتصریح کولو ښخه وروسته دکراهت تصریح وکړه، وعلی هذا الخلاف لو سبح بالفارسية فی الصلوٰة اودعا او اثنٰی علی الله تعالی الی ان قال ای یصح عنده لکن سیاتی کراهة الدعاء بالاعجمية (١) ص ٣٢٥ ج١، اوپه دی بل ځای کی یی صفا وویل: والظاهر ان الصحة عنده لا تنفی الکراهة الخ (٢) ص ٣٥٠ ج١، فی شرح قوله ودعا بالعربية. غرض دادی چی که چیری غور وسی اوتجسس وسی نو دفقهاء وو دکلام ښخه به داردو، فارسی (پښتو) دترجمی کراهت ثابت سی اوکه چیری هغه نه وی نو زموږ دپاره دحضرت شاه ولی الله رحمه الله لیکل هم کافی دی، که چیری ښوك یی نه منی نوهغه پوه سه. لیکن په دی باندی هرسړی پوهیدلی سی چی خطبه په عربی کی بغیر دترجمی ښخه بی شکه اوبی اختلافه اوبی کراهته جائز ده اوپه ترجمه کولو سره به شبهه دکراهت هغوی ته هم پاته سی ښوك چی راجح عدم کراهت ګنی، په هرحال دخطبی په صحت کی خو ښه تامل نسته. فقط

دکافرانو په ملک کی جُمعه او دهغه متعلق سوالات: سوال: (٢٣٢٩) اول دټرانسوال ملك حال لیکم، ددی دپاره چی دلاندینی سوالاتو په جواباتو کی اسانتیا وی، دلته دکفارو حکومت دی اوددی ځای اوسیدونکی هم کافران دی، البته ښه کسان مسلمانان شافعی المسلك هم سته باقی مسمانان دانډیا (India ، هندوستان) تاجران وغیره دی لیکن مجموعه مسلمانان دکافرانو په نسبت ډیرکم دی، دکلی خوزه ذکرنه کوم لیکن ددی ملك په ښارونو کی به تخمیناً مفصل په لاندی تعداد مسلمانان وی، په بعض ځای کی لس شل، په بعضی ځای کی دیرش ښلوینښت، یوځای اتیا سل، ماسوا دیوه ښار ښخه زما دخیال مطابق هیڅچیری به هم دښلورو پنځو سوو مجمع نه وی، دجوماتونو یې داحال دی چی یوځای خوپه کرایه باندی یوځای اخیستل سویدی، په هغه کی دجُمعې اوداخترونو لمونځ ادا کول کیږی، اوپه بعضی ځایونو کی یوجمات دی لیکن دکموالی په وجه هغه هم نه ډکیږی البته په یوځای کی درې جماتونه دی، او دمسلمانانو لوی جماعت دی، تقریباً دپنځو سوو ښخه به کم نه وی، دجُمعې او داخترونو لمونځونه ټول ادا کیږی، داختر په موقع باندی چی کم مسلمانان په کلیوکی اوسیږی هغوی په لمانځه کی شریك سی اوتعداد ورسره زیات سی، زما په علم کی دلته هیڅکله اسلامی حکومت نه دی

(١). ردالمحتار باب صفة الصلوٰة (تحت قول وجميع اذكار الصلوٰة) ج١ ص ٤٥١ ط. س. ج٢ ص٤٨٤ . ظفير
(٢). ردالمحتار باب صفة الصلوٰة مطلب فی الدعاء بغير العربية ج١ ص ٤٨٢ ، ط. س. ج ١ ص ٥٢١ . ظفير

راغلی، او دحاکمانو دطرف څخه هیڅ شرعی حکم دلته جاری نه دی لیکن دجُمعې او داختر لمونځ نه منع کوی، دکم ځای دپاره چی داخبره لیکل کیږی هغه هم ددې ځای دښاورنو څخه یوښار دی، اویو جومات هم پکښی دی چی دمسلمانانو شمېر به یې دشپیو یا اویاو څخه زیات نه وی، نوپه دې باره کی دلاندنیوسوالونو جوابونه پکار دی:

سوال: (٢٣٧٠ \ ٢) دجُمعې داداء دپاره ښار شرط دی که نه ؟

سوال: (٢٣٧١ \ ٣) ښار څه ته وایی داکبر مساجد تعریف دمذهب روایت دی اوکه نه ؟

سوال: (٢٣٧٢ \ ۴) کله چی قدرت داجرائی حدودو شرط دی اوبالفعل ضرور نه دی نو دتوالی په وجهی سره تعریف مذکور اختیارول اوظاهر مذهب پرېښوول څه رکم صحیح کیدی سی؟

سوال: (٢٣٧٣ \ ۵) دحنفی علماء وو داختلاف په وجهی سره احتیاطی (ظهر) وتاکل سو، لیکن چیری چی دحنفی مذهب موافق تحقق شرط نه وو اودنورو مذاهبو موافق تحقق وی هلته ولی جائزنه دی، دخروج عن الاختلاف علت په دواړو ځایونو کی موجود دی، یعنی هلته هم جُمعه اواحتیاطی کول په کاردی؟

سوال: (٢٣٧۴ \ ٦) کل موضع له امیر وقاض الخ، سره استدلال په عدم جواز دجُمعې باندی په دار الحرب کی کیدی سی اوکه نه؟

سوال: (٢٣٧۵ \ ٧) دذکرسوی کیفیت ترمخه کم ځای جُمعه جائزده اوپه کم ځای کی نه ده؟

سوال: (٢٣٧٦ \ ٨) چیری چی جائز نه وی هغوی منع سی اوکه نه؟ او دهغوی دماپښین څه حکم دی؟

سوال: (٢٣٧٧ \ ٩) په کم ځای کی چی مسلمان بادشاه نه وی نو هلته دجُمعې څه حکم دی؟ او دکفارو په حکومت کی جُمعه څه رکم جائز ده؟

سوال: (٢٣٧٨ \ ١٠) داملك دار الحرب دی اوکه نه؟

سوال: (٢٣٧٩ \ ١١) ددار الحرب تعریف څه دی؟ اوپه کمی طریقی سره دار الحرب دار الاسلام جوړیږی اودار الاسلام دار الحرب جوړیږی؟

سوال: (٢٣٨٠ \ ١٢) په کم ځای کی چی دجُمعې شرایط نه پیداکیږی هلته داختر دلمانځه څه حکم دی؟ که چیری جائزنه وی نوپه اداء کولو کی څه نقصان دی، که چیری په خپل مذهب کی واجب نه دی نودبل مذهب لکه دشافعی رحمه الله په مذهب باندی خو واجب دی اوخروج عن الاختلاف به وسی.

سوال: (٢٣٨١ \ ١٣) زموږ ځای ښار ګڼل کیږی، یوجومات پکښی دی، دهغه ځای لمونځ ګذار دغه جومات ډکولی نه سی، دلته دجُمعې څه حکم دی؟

جواب: قال فی ردالمحتار مع (١) انها تصح فی البلاد التی استولی علیها الکفار کما سنذکره ص ۵۳۷ (١) جلد اول. (٢) وفی ص ۵۴۱ فلو الولاة کفاراً یجوز للمسلمین اقامة الجمعة ویصیر القاضی بتراضی المسلمین الخ (٢). (٣) وفیه ایضا وتقع فرضًا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ (٣) (۴) وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر (۴) الخ (۵) وفی الدر المختار باب العیدین تجب صلاتها فی الاصح علی من تجب علیه الجمعة بشرائطها المتقدمة سوی الخطبة فانها سنة بعدها وفی القنیة العید فی القریٰ تکره تحریماً ای لانه اشتغال بما لا یصح لان المصر شرط الصحة الخ (۵)، قوله صلوٰة العید ومثله الجمعة الخ، شامی. (٦)

درد المحتار روایت ثالث اورابع څخه واضحه ده چی په ښار اوولسوالۍ اوقریه کبیره کی جُمعه اداء کیږی اوامر پرعرف باندی مفوض دی، اواهل عرف ته معلومه ده چی ښار کم یودی اوولسوالۍ کمه ده اوپه قریه صغیره اوکبیره کی څه تمیز اوفرق دی، اوددر مختار شامی دروایت خامس څخه دامعلومه سوه چی په قریه صغیره کی عیدین اوجُمعه مکروه تحریمی ده ځکه چی په دی کی دماپښین دفرض جماعت ترك اوارتکاب دنفلی جماعت لازم ګرځی. اوداولنی او ددوهم روایت څخه معلومه سوه، چی په کمو ښارونو باندی کافران مسلط دی هلته بغیر دتردد څخه جُمعه لازمه ده، مسلمانان دی دخپل جماعت څخه څوك دجُمعې امام جوړ کړی جُمعه به اداء اوصحیح سی، داحتیاط الظهر په باره کی ددرمختار صاحب دبحر دافتوٰی نقل فرمایلی ده: وفی البحر وقد افتیت مراراً بعدم صلوٰة الاربع بعدها بنیة آخر ظهر خوف اعتقاد عدم فرضیة الجمعة وهو الاحتیاط فی زماننا واما من لا یخاف علی مفسدة فالاولی ان تکون فی بیته خفیةً الخ (٧).

اوس دسوال دجوابونو نمبروار بالاجماع تحریر دی.

١. دجُمعې دوجوب او اداء دپاره مصر شرط دی اوښار او ولسوالۍ اوقریه کبیره ټول په حکم دمصر کی دی.

٣،٢. ښار عرفاً ظاهر دی اودفقهاء وو چی په دی کی کم څه ارشاد اوتفصیل دی هغه هم

---

(١). وګوری ردالمحتار باب الجمعة مطبوعة درسعادت ج١ ص٧۴٨ ط. س. ج٢ ص١٣٨. ظفیر

(٢). ایضا ج١ ص ٧۵۴ ط. س. ج٢ ص ١۴۴ . ظفیر

(٣). ایضا ج١ ص٧۴٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٨ . ظفیر

(۴). وګوری ردالمحتار باب الجمعة مطبوعة درسعادت ج١ ص ٧۴٨ ، ط. س. ج٢ ص١٣٨. ظفیر

(۵). الدر المختار علی هامس ردالمحتار باب العیدین ج١ ص٧٧۴ – ٧٧۵ ، ط. س. ج٢ ص١٦٦. ظفیر

(٦). ردالمحتار باب العیدین ج١ ص ٧٧۵ ، ط. س. ج ٢ ص ١٦٧ . ظفیر

(٧). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧۴٧ ، ط. س. ج ٢ ص ١٣٧ . ظفیر

دفقهی په کتابونوکی موجود دی، داکبر مساجد تعریف ته یی دمنیه په شرح کی مزیف ویلی دی.
۴. کله چی دخپل مذهب موافق جُمعه فی القرٰی مثلاً مکروه تحریمی ده، څنګه چی په روایت خامس کی ذکرسو، نواحتیاط الظهر سره داداء دجُمعې، دهغه مکافات کله کولی سی، هلته خو دماپښین لمونځ په جماعت سره کول په کاردی اوجُمعه ترك کول په کار دی، کنی ارتګاب دمکروه تحریمی به لازم سی.
د: ۵ څخه تر:۱۱ پوری: دکفارو په بلادو کی دجُمعې صحیح کیدل دروایت نمبر ۱ او نمبر ۲ څخه واضح سو، نوپر کمو بلادو باندی چی کافران مسلط دی په هغه کی چی کم غټ ښارونه او ولسوالۍ اوغټ کلی دی، هلته په موجب دروایت نمبر ۳ بی شکه اوبی تردده جُمعه درسته ده داحتیاط الظهر حاجت نسته، اوکم کلی چی کوچنی دی هلته جُمعه صحیح نه ده، هلته دماپښین لمونځ دجماعت سره کول په کاردی، غرض داچی دکفارو دبلاد کیدلو په وجهی سره دجُمعې په مسئله کی هیڅ فرق نه راځی، څنګه چی په اسلامی بلادو کی په ښار او ولسوالۍ اوقریه کبیره کی اداء کیږی اوپه قریه صغیره کی نه کیږی، همدغه رکم تفصیل دکفارو په بلادو کی هم دی، رساله اوثق العرٰی په باره دجُمعې کی مؤلف سوی دحضرت مولانا رشید احمد قدس سرہٗ می در واستوله په دی سره به دجُمعې په باره کی ټول مطلب واضح سی.
۱۲. دجُمعې او داخترونو شرائط ماسوا دخطبی څخه متحد دی، کما مرّ، نوکم ځای چی داخترونو لمونځ صحیح نه دی، نوهلته دجُمعې لمونځ هم صحیح نه دی، اوچیری چی دجُمعې لمونځ صحیح نه دی نوهلته داختر لمونځ هم صحیح نه دی.
۱۳. کمه بلدیه چی ښار ګڼل کیږی هلته بیشکه جُمعه صحیح ده اوښاروالی دآبادۍ دکثرت په وجهی سره وی که څه هم چی کافران پکښی آبادوی اومسلمانان پکښی لږوی.

<u>دخطبې په وخت کی چی خطیب په لاس کی امساء اخلی</u>: سوال: (۲۳۸۲) خطیب چی دخطبې په وخت کی امساء په لاس کی اخلی نوڅنګه ده؟ بعضی ورته مکروهه وایی او په حدیث پاك کی راځی چی سنت دی، جواب دکتاب دحوالې سره پکار دی.
جواب: په درمختار کی یی دخلاصی څخه نقل کړی دی: ویکره ان یتکئ علی قوس(۱) او عصا الخ اوپه شامی کی دی چی په حدیث پاك کی تکیه کول پرعصا یالیندۍ باندی ثابت دی، اوقهستانی دمحیط څخه نقل کړیدی، چی امساء اخیستل سنت دی، (۱) نو

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۷۲ ط. س. ج۲ ص۱۲۳. ظفیر

شايد چي دتطبيق صورة يي داوي چي كه ضرورت وي نولكړه دي په لاس كي واخلي څه حرج پكښي نسته، اوكه ضرورت يي نه وي نونه دي اخلي. فقط

چي ابادي دري زره وي نوجُمعه درسته ده: **سوال:** (۲۳۸۳) دسوجړو نومي ځاى په ضلع مظفرنگر كي تقريبًا دري زره ياڅه كمه مردم شماري ده اوبازار په دغه ځاى كي نسته، او څه سودا وغيره كپړه ياغله يا دوا هم نه پيدا كيږي اودغه ځاى دښار څخه يو كَوْس ([2]) يا څه دپاسه يو كَوْس ليري دي، نوپه داسي كلي كي جُمعه جائز ده اوكه نه؟

جواب: په شامي كي تصريح ده چي په ولسوالۍ اولوى كلي كي جُمعه صحيح ده، عبارت يي دادي: وتقع فرضا فى القصبات والقرى الكبيرة التى فيها اسواق الى ان قال وفيما ذكرنا اشارة الى انه لا تجوز فى الصغيرة الخ، ([3]) نوقريه مذكوره په ظاهره قريه كبيره ده چي ابادي يي دري زروته نژدي ده، لهٰذا په دي كي جُمعه كول واجب اوصحيح دي. فقط

دجُمعي دوعظ څخه مخكي او وروسته په اواز سره درود ويل: **سوال:** (۲۳۸۴) دجُمعې په ورځ دعربي خطبي څخه مخكي وعظ ويل او دوعظ څخه مخكي په لوړ اواز باندي سره دسامعينو درود شريف ويل على الدوام څنګه دي؟

په خطبه كي دحضور ﷺ پر نامه باندي دخطيب درود ويل څنګه دي: **سوال:** (۲۳۸۵) په خطبه كي چي چيري دمحمد رسول الله ﷺ نوم مبارك راسي نوخطيب ته دحضور ﷺ دنوم څخه وروسته (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ويل څنګه دي؟

جواب: په خطبه كي دننه په أردو (يا پښتو) وعظ كول يا دخطبي ترجمه په أردو (وغيره) كي كول مكروه دي، همدغه ركم په دي موقعه باندي ددرود شريف دجهر التزام كول ثابت نه دي. مسنونه طريقه داده چي كم وخت خطيب منبرته ولاړسي نو مؤذن دي اذان وكړي او داذان دختميدو څخه وروسته دي خطيب دعربي خطبه شروع كړي اوپه خطبه كي دعربي ژبي څخه ماسوا اردو، فارسي، (پښتو) نظم اونثر دي نه وايي. ([4]) فقط

([1]). ونقل القهستانى عن عيد المحيط ان اخذ العصا سنة كالقيام وفى رواية ابى داؤد انه ﷺ قام فى الخطبة متكئاً على عصا او قوس (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۷۲ ط. س. ج۲ ص۱۲۳). ظفير

([2]). كَوْس په أردو ژبه كي دلارى دفاصلې ديوې معيّنې اندازې دپاره استعماليږي، يعني درې زره گزه يا ۳ درې كيلو ميتره. فيروز اللغات ص ۱۰۴۳ كالم ۲ . محمد أحمد الحقانى الأفغانى عفي الله عنه

([3]). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۸ ، ط.س. ج۲ ص ۱۳۸ . ظفير

([4]). وعلى هذا الخلاف الخطبة وجميع اذكار الصلوٰة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۵۱ ط. س. ج۱ ص۴۸۴) فانه لاشك فى ان الخطبة بغير العربية خلاف السنة المتوارثة من النبى ﷺ والصحابة فيكون مكروهاً تحريماً وكذا قرآءة الاشعار الهندية والفارسية فيها (عمدة الرعاية حاشيه شرح الوقايه ج۱ ص۲۴۲). ظفير

۲. په خطبه کی چی په کم ځای کی دحضور ﷺ نوم راسی نوخطیب دی درود شریف ووایی اوسامعین دی په زړه زړه کی درود شریف ووایی، شرعی حکم دغه (۱) دی. فقط

دخطبی څخه مخکی په لوړ اواز سره دټولو خلکو درود ویل ثابت نه دی: سوال: (۲۳۸۶) یو مولوی صاحب دجُمعې په وخت کی په جومات کی چی دسنتو څخه فارغه سی نوپه منبر باندی کښیني اوپخپله درودشریف په لوړ اوازوایی اوسامعین یې هم وایی، بیا ودریږی وعظ وکړی، بیا مؤذن اذان وکړی، اومولوی صاحب په عربی کی خطبه وایی بیا جماعت وسی. سوال صرف دادی چی دوعظ څخه مخکی چی کم درود شریف تقریبًا یوولس ۱۱ واره ویل کیږی هغه څنګه دی، یومولوی صاحب وایی چی دا منع دی لیکن زما په نزد پکښی دامتناع خبره نسته، تاسی وفرمایاست چی داخبره څنګه ده، مخکنی کارډ هم ملاحظه کړی چی اول همدا سوال دی یا هغه کم چی تاسی جواب ورکړی دی؟

جواب: مخکی چی کم څه لیکل سوی وه هغه په دی بناء باندی وه چی اکثره خلګ په خطبه کی دوعظ طرز اختیاروی اودخطبی ترجمه وغیره په نثر اونظم کی کوی دامکروه ده. باقی کمه خبره چی تاسی پوښتلی ده چی دخطبی څخه مخکی او داذان بین یدی الخطیب څخه هم مخکی وعظ وویل سی، نوپه دی کی څه حرج نسته، او دوعظ دشروع کولو څخه مخکی ددرود شریف په ویلو کی هم در اصل څه حرج نسته، لیکن دامام او سامعینو علی الدوام په جهر سره درود شریف ویل اوددی التزام کول دشرعی قواعدو ترمخه مکروه اوبدعت دی، ځکه چی امر غیرِ لازم، لازم کول یا دهغه سره دلازم غوندی معامله کول دکم سره چی کتونکی او اوریدونکو ته په دغه خاص وخت کی دهغه التزام ضروری معلوم سی، جائزنه دی. (۲) فقط

درسول الله ﷺ په قباء کی قیام او دجُمعې دلمانځه بحث: سوال: (۲۳۸۷) جناب مولانا رشید احمد ګنګوهی په اوثق العرٰی فی تحقیق الجمعة فی القرٰی کی تحریر فرمایی: چی اول نزول درسول ﷺ په قباء کی وسو اوهلته څوارلس ورځی هغه مبارك ﷺ اقامت وفرمایی. الی قوله الشریف، لیکن هغه ﷺ په قباء کی جُمعه قائمه نه کړله الی اخر عبارته الشریف. په قباء کی دجُمعې دنه قائمولو هیڅ وجه مولانا تحریر نه کړله اونه یی په احسن القرٰی کی څه توضیح فرمایلی دی.

اوس مخالفین غیر مقلدین وایی چی په تاریخ خمیس، شرح مواهب اللدنیة، او تفسیر

---

(۱). والصواب انه یصلی علی النبی ﷺ عند سماع اسمه ﷺ فی نفسه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۶۸. ط. س. ج۲ ص۱۵۹). ظفیر

(۲). قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد . (مشکوٰة ص ۲۷) .

طبری وغیره کی دی چی حضور ﷺ دقباء دقیام په ورځو کی جُمعه کړیده، اونه کول په هیڅ یوکتاب کی نسته وطال لسانهم علی مولانا، نو دهجرت په وخت کی په قباء کی دهغه ﷺ دجُمعې نه کولو دلیل سره دصفحې اوکرښی تحریر وفرمایاست.

جواب: دابالکل غلطه ده چی په قباء کی دحضور ﷺ دجُمعې دنه قائمولو هیڅ دلیل مولانا علیه الرحمة نه دی تحریر کړی اونه داحسن القرٰی صاحب څه وضاحت کړی دی. مولانا مرحوم پخپله هم په اوثق القرٰی کی دبخاری ص ۱۲۲ جلد اول حدیث ددی په دلیل کی نقل فرمایلی دی او داحسن القرٰی صاحب هم ددی وضاحت کړیدی، وګوره احسن القرٰی ص ۹. لیکن حضور ﷺ په قباء کی جُمعه قائمه نه کړله، اونه یی دقبا خلګو ته دجُمعې قائمولو امر وفرمایی. نه یی په دی باندی زورنه ورکړه چی په مدینه کی برابره جُمعه کیږی، تاسی تراوسه پوری ولی جُمعه قائمه نه کړه، حالانکی په قباء او نورو عوالیو کی مسلمانان په کثرت سره موجود وه، لیکن په هیڅ وخت کی هلته جُمعه ونه سوه، په همدې ډول دبخاری په ص ۱۳۲ جلد اول وغیره دحدیثو مبارکو په کتابونو کی روایت دی.

عن ابن عباس رضي الله عنه ان اول جمعة جمعت فی الاسلام بعد جمعة جمعت فی مسجد رسول الله ﷺ بالمدینة لجمعة جمعت بجواثا قریة من قری البحرین.

ددی روایت صحیحه څخه په صفا طور سره معلومیږی چی په عوالیو اومنازلو کی به جُمعه نه کیدله، کنی په جواثا کی چی دجُمعې کم اولیت چی په دې روایت کی ذکر سوی دی هغه به غلط سی. انتهٰی قوله الشریف. اوداپه خپل عبارت کی صاحب داحسن القری داوثق العری دعبارت خلاصه کړیده، خلاصه داده چی دروایت صحیحه څخه داثابتیږی چی دمسجد نبوی ﷺ څخه وروسته دټولو څخه اولنی جُمعه چی په اسلام کی سویده هغه په جواثا مقام کی سویده بیا نوځنګه ویل کیږی چی حضور ﷺ په قباء کی ددی څخه مخکی اقامت دجُمعې فرمایلی دی او دبخاری او دابوداود او ددی روایت صریحه صحیحه څخه وروسته کم یو دلیل غواړی دکم متعلق چی اهل حدیث وایی چی مولانا هیڅ څه دلیل بیان کړی نه دی باقی پاته سوه دهغوی داوینا چی په تفسیر طبری اوتاریخ الخمیس اوپه شرح مواهب اللدنیة کی دحضور ﷺ په قباء کی جُمعه قائمول مروی دی، نوددی اول جواب خو دادی چی دوی ته شرم په کاردی، چی دصحیح بخاری دروایت مقابله په تاریخ الخمیس وغیره دسیرو په کتابونو سره کوی، چیری دبخاری روایت او چیری دسیر غیر معتبر روایتونه، که چیری بالفرض دسیرو ټولو کتابونوپه اتفاق سره هم ددی څخه خلاف نقل کړی وی نوبیا هم دمسلمان دپاره ضروری دی چی دبخاری دحدیث

په مقابله کی ددوی هیڅ پرواه ونه سی، حالانکی دتاریخ اودسیر کتابونه هم په اتفاق سره دبخاری دروایت هم نوا (هم غږی) دی ټول دټوله ددی خبری تصریح کوی، چی حضور ﷺ په قباء کی اقامت دجُمعې نه وو فرمایلی، بلکی دهغه ځای څخه په څوارلسمه ورځ روان سو اودمدینی دابادی سره نژدی بنی سالمو ته چی راغی نو دجُمعې اقامت یی وفرمایی، وګوره فتح الباری، سیرت ابن هشام، تاریخ طبری وغیره.
باقی پاته سوه دهغوی ددرو کتابونو تفسیر طبری، اوتاریخ الخمیس او دشرح مواهب اللدنیة څخه داقامت جُمعه فی القباء نقل کول، نو ددې درو واړو په اړوند مفصل عرض دی:
۱. په تفسیر طبری کی خویی دنزول دقباء دواقعی سره بالکل هیڅ څه تعرض نه دی کړی اوکه چیری څوك دعوٰی کوی نوصفحه دی تحریر کړی، البته په تاریخ طبری کی یی دحضور ﷺ قباء ته دتشریف راوړلو واقعه بیان کړیده لیکن په هغه کی په ځای ددی چی په قباء کی دجُمعې قائمول منقول وی صراحة ددی څخه انکار مروی دی، وګوره تاریخ طبری جلد ثانی ص **۲۵۵** دسنة **۱** هجری دحالاتو په لیکلو سره فرمایی: فمن ذلك تجميعه ﷺ بأصحابه الجمعة في اليوم الذى ارتحل فيه من قباء وذلك أن ارتحاله عنها كان يوم الجمعة عامدا المدينة فأدركته الصلاة صلاة الجمعة في بنى سالم ابن عوف ببطن واد لهم قد اتخذ اليوم في ذلك الموضع مسجدا فيما بلغني وكانت هذه الجمعة أول جمعة جمعها رسول الله ﷺ في الاسلام ۱ھ ، ددی خلاصه داده چی حضور ﷺ په څوارلسمه ورځ دقباء څخه روان سو، او په بنی سالمو کی یی جُمعه قائمه وفرمایله اوهمدا جُمعه دهغوی ﷺ اولنی جُمعه وه، الحاصل په تفسیر طبری کی خو ددی نوم نسته اوپه تاریخ طبری کی سته خو ددوی بالکل خلاف اوزموږ بالکل موافق.
۲. په شرح مواهب اللدنیة معروف په (زرقانی) کی بیشکه په یو ضعیف روایت کی سته چی هغوی ﷺ دقباء داقامت په موده کی اقامت دجُمعه فرمایلی دی، دکم تضعیف چی پخپله دزرقانی دقول څخه مترشح کیږی ځکه چی هغه وایی: قيل كان يصلى الجمعة فى مسجد قباء مدة اقامته، لفظ د، قيل، پخپله دتضعیف طرف ته اشاره ده. نوددی جواب حضرت مولانا مدّ ظله العالی په احسن القری کی په پوره تفصیل سره لیکلی دی وګوره احسن القری ص ۸۸ فرمایی: خیر ددی خرافاتو او فضولیاتو څخه په قطع نظر کولو سره داعرض کوم چی دزرقانی عبارت، قيل كان يصلى الجمعة الخ، اول خوپه هیڅ شان سره قابل داستناد اولائق داعتبار نه دی، حتی چی داهم معلومه نه ده چی قائل یی څوك دی،

ددی خوموقع نه ده چی قائل یی څنګه دی معتبردی اوکه نه غیرمعتبر. علی هذا القیاس دسند نښان یی هم نسته، ددی خو ذکر څه دی، چی سند متصل دی اوکه منقطع دی، صحیح دی یاضعیف، معتبر دی اوکه غیر معتبر. بله داچی داشاذ روایت دټولو معتبرو روایاتو اوداهل سیرو داتفاق څخه کم چی مجیب پخپله نقل کړی صریح مخالف او معارض دی. په ټولو روایاتو کی همدا مذکور دی چی دهجرت په وخت کی حضور ﷺ جُمعه په بنی سالمو یعنی په حرّه بنی بیاضه کی کړی وه، حتی چی اهل تفسیر او اهل سیر دحدیث چی کم روایات نقل کوی نوپه هغه کی صراحةً داروایت منقول دی ، فمر علی بنی سالم فصلی فیهم الجمعة ببنی سلام وهو اول جمعة صلاها رسول الله ﷺ الی قوله الشریف.

۳. ددی څخه علاوه موږ پورته ثابته کړیده چی مطابق دارشاد داکابرو او دمعتمد به تصریحاتو دا امر محقق دی چی په عوالیو کی هیڅیری هم جُمعه نه ده سوی، اوزموږ هر دواړه مجیبان هم داخبره تسلیموی اوس به ددی مجهول اوشاذقول په وجهی سره داقصه هم بالکل ختمه اوتباه سوی وی، او ددی ټولو تصریحاتو په خلاف به اوس دا ویل وی چی په عوالیو کی بیشکه جُمعه سویده، والله اعلم

<u>چی خطبه یوسړی ووایی اوامامت بل سړی وکړی، نودا درست دی</u>: سوال: (۲۳۸۸) دجُمعې امام دجُمعې په ورځ دخطبی اجازه چاته تعظیماً ورکړه، دخطیب دخطبی څخه وروسته دجُمعې په امام باندی یاجُمعې دامام په اجازه سره په بل سړی باندی دجُمعې لمونځ ورکی نو دجُمعې لمونځ به سره دکراهته اداء سی اوکه نه بغیر دکراهت څخه؟

جواب: په درمختار کی دی: لا ینبغي أن یصلي غیر الخطیب لانهما کشئ واحد فإن فعل ؒ جاز ؒ قوله: لانهما ، ای الخطبة والصلاة کشيء واحد لکونهما شرطاً ومشروطاً ولا تحقق للمشروط بدون شرطه فالمناسب ان یکون فاعلهما وحدا ؒ (۱). شامی باب الجمعة .

نومعلومه سوه چی ښه اومناسب دادی چی خطبه او دجُمعې لمونځ دي یوسړی ورکوی، لیکن که چیری خطبه یوسړی وایی اوامام بل وی نوداهم درست دی اوپه لمانځه کی څه کراهت نسته دی، البته دافعل بی ضرورته خلاف اولی دی. فقط

<u>دجُمعې داذانِ ثانی په جواب کی بحث</u>: سوال: (۲۳۸۹) کم اذان چی دجُمعې په ورځ دمنبر په خواکی کیږی نومقتدیانو ته دهغه جواب ورکول بناء پرمذهب صحیح مفتی به جائز دی اوکه نه؟ که چیری جائز وی نو: اذا اخرج الامام فلا صلوٰة ولا کلام، اودعلامه شامی

---

(۱). رد المحتار باب الجمعة ج ۱ ص ۷۷۱ ، ط. س. ج ۲ ص ۱۲۲ . ظفیر

دحکم بالکراهت څه مطلب دی، کم چی هغوی دمنبری اذان پر جواب ورکونکی باندی بناء پرمذهب دامام ابوحنیفه رحمه الله لګولی دی بل داچی دکلام څخه مراد دینی دی اوکه دنیوی، اوکه چیری جواب ورکول جائزنه وی نو بیا دحدیث معاویه رضی الله عنه مطلب څه دی، کم چی امام بخاری په کتاب الجمعة باب یجیب الامام بلسانه کی روایت کړی دی په کم کی چی دمنبر اذان دجواب تصریح موجوده ده، ددی څخه علاوه ډیر احادیث داذان د جواب ورکولو په باره وارد دی، کم چی دخپل عموم په اعتبار سره دمنبر اذانِ اجابت لره هم شامل دی، بیا دکراهت حکم څنګه کیږی؟ بل دا چی یو داسی صریح مخصص هم موجود نه دی، په کم سره چی دعموم داحادیثو تخصیص وسی او دمنبر داذان جواب مستثنٰی سی، بلی خواته احناف داجابت دوجوب هم قائل دی، بل داچی، اذا خرج الخ، دامام زهری قول دی، لهذا داحادیثو متصلة الاسناد مخصص اومعارض نه سی کیدلی، چی دهغه عموم باطل سی کم چی داحادیثو صریح منطوق دی. بلی خواته دصحابه کرامو رضی الله عنهم څخه د، کنا نتحدث، وغیره الفاظ هم منقول دی، چی دامام دخروج څخه وروسته او دخطبی دشروع کیدلو څخه مخکی به تحدث پیدا کیدی.

جواب: دجُمعه داذان بین یدی الخطیب جواب ورکول په مذهب راجح او احوط اواصح درست نه دی بلکی مکروه دی، کمافی الدر المختار وینبغی ان لایجیب اتفاق فی الاذان بین یدی الخطیب الخ، باب الاذان (۱) وفی باب الجمعة من ردالمحتار واجابة الاذان حینئذ (۲) مکروهة الخ، اوکلام عام ساتل احوط دی. کما هومنقول عن علی وابن عباس وابن عمر رضی الله عنهم (۳).

او داحادیثو صحیحه وو متقضٰی هم ده. لما اخرج الستة عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا قلت لصاحبك یوم الجمعة انصت والامام یخطب فقد لغوت. وهذا یفید بعبارته منع الامر بالمعروف مع انه واجب وبدلالته منع صلٰوة النفل والقراءة والاذکار لانه اذا منع الواجب فالنفل اولٰی بالمنع ویرجح علی سائر الاحادیث الدالة علی جواز تحیة المسجد او اباحة الکلام لانه محرم والمحرم مرجح علی المبیح (۴) اوپه دی کی که څه هم قید، والامام یخطب، دی لیکن قبل شروع الخطبة بعد الصعود علی المنبر هم داحکم کیدل ظاهردی: لان الکلام یمتد طبعاً

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان ج ۱ ص ۳۷۱ ، ط. س. ج ۱ ص ۳۹۹ . ظفیر
(۲). ردالمحتار باب الجمعة مطلب فی حکم المرقی ج۱ ص۷۲۹ ، ط. س. ج۲ ص۱۲۰. ظفیر
(۳). واخرج ابن ابی شیبه فی مصنفه عن علی وابن عباس وابن عمر رضی الله عنهم کانو یکرهون الصلوة والکلام بعد خروج الامام (رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۷ ، ط. س. ج ۲ ص ۱۵۸). ظفیر
(۴). غنیة المستملی باب الجمعة البحث الثانی ص ۵۱۹ – ۵۲۰ . ظفیر

ولان الكلام يجرّ الى الكلام. (١) شرح منيه للحلبى ، وفيه قبيله واذا صعد الامام على المنبر يجب على الناس ترك الصلاة النافلة لما تقدم من كراهتها عند الخطبة ويجب ترك الكلام ايضاً عند ابى حنيفة رضى الله تعالٰى عنه وقالا يباح الكلام حتى يشرع فى الخطبة الخ (٢) والخلاف فى الكلام يتعلق بالاخرة اما غيره فيكره اجماعاً درمختار (٣) ولابى حنيفة رضى الله تعالى عنه ما ذكر ابن ابى شيبة فى مصنفه عن على وابن عباس وابن عمر كانوا يكرهون الصلاة والكلام بعد خروج الامام ولان الكلام ايضا قد يمتدطبعاً فان الكلام يجر الى الكلام فكان المنع احوط ص٥١٩ شرح منية الكبير.

اودحضرت معاويه ﷛ دحديث پاك جواب دادى چى هغوى ددى اذان داجابت قياس كړيدى دنورو وختونو داذان پراجابت باندى، څه ركم چى داذان داجابت څخه وروسته دهغوى دافرمايل چى! يا ايها الناس انى سمعت رسول الله ﷺ على هذا المجلس حين اذن المؤذن يقول ما سمعتم منى من مقالتى (٤)، پردى باندى دلالت كوى، ځكه چى دا ښكاره ده چى رسول الله ﷺ په وخت ددوهم اذان كم چى بين يدى الخطيب كيږى په هغه موقع باندى نسى كيدى، كم طرف ته چى حضرت معاوية ﷛ اشاره كړيده بلكى حضور ﷺ هغه وخت په منبر باندى وو، نومعلومه سوه چى حضرت معاوية ﷛ داذكر دنورو اوقاتو كوى، نوكله چى جليل القدر صحابه كرام لكه حضرت على، ابن عباس اوابن عمر ﷡ دحضرت معاويه ﷛ ددى عمل په خلاف باندى عامل وو اوپه وخت دصعود امام على المنبر صلٰوة اوكلام يى مطلقاً مكروه ګڼى، نوددغه كبارو صحابه وو ﷡ عمل به راجح وى، اوبيا دمبيح اودمحرم دتعارض مقتضٰى هم ترجيح دكراهت اوحرمت ده، اوكم جواب چى دحضرت معاويه ﷛ ددى عمل وركول سوى دى هغه جواب دجمله رواياتو دالة على استحباب الاجابة او وجوبها دى اوحنفيه دوجوب يا داستحباب اجابت څخه پخپله داموقع مستثنٰى كوى. اودا پورته معلومه سوه چى، اذا خرج الامام الخ، محض دزهرى قول نه دى بلكى دكبارو صحابه وو ﷡ څخه هم دامنقول دى او دصحابى قول په داسى موقع كى دمرفوع په حكم كى وى، كما بين فى موضعه اودبعضو صحابه وو، كنا نتحدث وغيره فرمايل دحضرت على، ابن عباس اوابن عمر ﷡ په قول اوفعل باندى راجح كيدى نسى ، غرض دا چى احوط انصات دى. كما ذكره الزيلعى ان الاحوط

(١). ايضا ص٥٢٠. ظفير
(٢). ايضا ص ٥١٩. ظفير
(٣). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة مطلب فى حكم المرقى الخ ج١ ص ٧٢٩ ، ط. س. ج٢ ص١٢٠. ظفير
(٤). بخارى كتاب الجمعة باب يجيب الامام بلسانه . ظفير

الانصات. شامی ([1]) فقط

دباران په زمانه کې دجُمعې لمونځ په جماعت سره په کورکې کولی سي: **سوال**: (٢٣٩٠)

در ایام باران به وجه کثرت بارش وآب فراوان راه چلیدن ازحد بیکران دشوار گزار می شود مسجد هم قدری از مسکن دور است نادر ان هنگام ادائی صلوٰة جُمعه را شرعا چی حکم دارد، آیا درآن هنگام تکلیف ما لا نهایه کشیده برائی صلوة جُمعه به مسجد رفتن ضرور باشد یا تادی صلوٰة بمکان کافی کند یانه؟

جواب: تعدد دجُمعې دلمانځه بناء پرمفتٰی به قول باندی صحیح دی، نوکه دباران دعذر په وجه جومات ته تلل دشوار وی نو په بل ځای کی دجُمعې لمونځ کول په جماعت مشروعه (چی هغه دری کسان دی دامام څخه بغیر. درمختار) صحیح دی. ([2]) فقط

کم خلک چې پنځه وخته لمونځ نه کوی دهغوی دجُمعې لمونځ هم درست دی: **سوال**:

(٢٣٩١) کم خلگ چی پنځه وخته لمونځ نه کوی اوصرف دجُمعې لمونځ اداء کوی، نو دهغوی دجُمعې لمونځ به صحیح سی اوکه نه؟

جواب: دجُمعې لمونځ یی بلا شبهی صحیح دی، که څه هم دغه سړی لوی گنهگار ([3]) دی. فقط

دجامع مسجد په لمانځه کې دثواب زیاتوالی صرف دفرضو سره متعلق دی: **سوال**: (٢٣٩٢)

په مجموعه خطب (کتاب) کی لیکلی دی چی په جامع جومات کی دیورکعات ثواب دپنځو سوو رکعاتونو برابردی نودا ثواب صرف دفرضو داولنی جماعت سره مخصوص دی اوکه نه په سنتو اونفلو کی هم دغه ثواب دی، چی کله یی په جامع جومات کی ادا کړی؟

جواب: داثواب صرف دفرضو داولنی جماعت سره مخصوص دی په سنتو اونفلی لمانځه کی نه دی، هغه په کورکی کول ښه دی اوهمدغه دحضور ﷺ دائمی عمل اوحکم وو، که چیری په نوافلو کی هم داگران قدر ثواب وای نوهغوی ﷺ به په کورکی نه کول، اونه به یی حکم کولی، اودا مضمون دحدیث شریف دی ([4]). فقط

([1]). ردالمحتار باب الجمعة تحت قوله ولا کلام ج١ ص ٧٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١٥٨. ظفیر

([2]). وتؤدی فی مصر واحد بمواضع کثیرة مطلقا علی المذهب وعلیه الفتوٰی دفعا للحرج. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٥٥ ، ط. س. ج٢ ص١۴۴. ظفیر

([3]). وان فاتته اکثر من صلوات یوم ولیلة اجزاته التی بدا بها (هدایه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٨). ظفیر

([4]). والافضل فی النفل غیر التراویح المنزل الا لخوف شغل عنها (الدر المختار) قوله والافضل شمل مابعد الفریضة وما قبلها لحدیث الصحیحین علیکم بالصلوة فی بیوتکم فان خیر صلاة المرء فی بیته الا المکتوبة الخ (رد المحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٣٨ ، ط. س. ج٢ ص٢٢). ظفیر

دسنت کوونکو انتظار دخطيب لپاره ضروري نه دي: **سوال:** (۲۳۹۳) کله چې دجُمعې د لمانځه وخت سو او اتفاقاً دوه څلور کسان کم چې ناوخته راغلي وه هغوى سنت لمونځ کوي، دمنبر راسته ياچپه طرف ته نودغه وخت خطيب لره خطبه شروع کول ځنګه دي؟ کم سړي چې په ذکر سوي وخت کې خطبه ويل حرام ګڼي دهغه دپاره څه حکم دی؟

جواب: پرخطيب باندې دسنت کوونکو دفارغ کيدلو انتظار کول لازم نه دي، کم وخت چې مقرر وخت پوره سي نو خطيب دي دخطبې دپاره ولاړ سي، پر هغه باندې څه مؤاخذه او ګناه نسته، ولې چې هغه متبوع دی تابع نه دی، مقتديانو ته خودا حکم دی چې کم وخت خطيب دخطبې دپاره منبرته راسي نونفل اوسنت مه کوی ليکن خطيب ته داحکم نسته، چې هغه دي دفارغه کيدلو انتظار کوی، اوکه چيری دوه څلور منټه هغه انتظار وکړی نوپه دی کې څه حرج هم نسته، ليکن په انتظار نه کولوسره به ګنهګار نه سی، في حديث الصحيحين انما جعل الامام ليؤتم به (١). الحديث، وفي الدر المختار، واذا خرج الامام فلا صلاة ولا كلام الخ (٢)، نوکم خلګ چې په ذکرسوی حالت کې خطبې ويلو ته حرام وايي، هغه په خطاء دی اودشرعی مسائلو څخه خبر نه دی، دهغه دخبری طرف ته دي التفات ونه سی.

دجُمعې په ورځ داول اذان څخه مخکی اودلمانځه څخه وروسته تجارت درست دی: **سوال:** (۲۳۹۴) دجُمعې په ورځ سوداګرو او دوکاندارانو مسلمانانو ته ددوکانونو خلاصول په کاردی اوکه نه؟ که چيری دوکاندارانو اوکسب ګروته دخپل کار کولو اجازه وی نودکم وخت څخه تر کم وخت پوری؟

جواب: دجُمعې په ورځ ټول کار وبار دخرڅولو اواخيستلو وغيره تراول اذانه پوری جائز دی اوددی څخه وروسته مکروه تحريمی دی، په تنوير الابصار کی دی، وكره البيع عند اذان الاول، نو داذان کيدلو سره ټول کارو بار پريښوول اودجُمعې دپاره حاضريدل په کاردی. (٣) که داول اذان څخه مخکی دکسب والا خلګ خپل کسب کوی، اودوکانداران خرڅول اواخيستل کوی نوپه دی کی شرعًا هيڅ منعوالی نسته. فقط

(همدغه ډول دجُمعې دلمانځه څخه دفارغه کيدلو څخه وروسته هم په بيع اوشراء کی اخته کيدلی سی، فاذا قضيت الصلوة فانتشروا في الارض وابتغوا من فضل الله. ظفير)

---

(١). مشكوة باب ماعلى الماموم من المتابعة وحكم المسبوق فصل اول ص (١٠١) . ظفير

(٢). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة جلد اول ص ٧٧٧ ، ط. س. ج٢ ص١٥٨. ظفير

(٣). ووجب سعي اليها وترك البيع الخ بالاذان الاول في الاصح وان لم يكن في زمن الرسول بل في زمن عثمان وافاد في البحر اطلاق الحرمة على المكروه تحريمًا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٧٠ ، ط. س. ج ٢ ص ١٢١) . ظفير

په قدر دضرورت په خطبه کی دعربی ویلو څخه وروسته په اردو یا پښتوکی وعظ دسنت څخه خلاف دی: **سوال**: (٢٣٩٥) دجُمعې خطبه په عربی کی دمختصر ویلو څخه وروسته په اردو یا پښتو یاپه یوه بله ملی ژبه کی وعظ ویل څنګه دی، اکثره حنفی عالمان وعظ په خطبه کی وایی؟

جواب: خطبه ټوله په عربی کی ویل سنت دی اوداخبره چی دڅه خطبې په عربی کی دویلو څخه وروسته بیاپه اردو [یابله ژبه] کی دوعظ په طریقه په خطبه کی دننه څه ویل خلاف سنت اوبدعت دی. دسلفو څخه داسی ثابت نه دی. حضرت شاه ولی الله قدس سره په مصفٰی شرح موطا کی لیکلی دی چی صحابه کرام رضی الله عنهم سره ددی چی دعجمو ښاروته یی تشریف وړی وو، لیکن خطبه یی ماسوا دعربی ژبی څخه په بله ژبه کی دمخاطبو دپوهولو دپاره نه ده ویلی، نوعمل مستمره دصحابه کرامو رضی الله عنهم ددی خبری دلیل دی چی ټوله خطبه په عربی کی کیدل په کار ([1]) دی. فقط

په لویه ابادی کی جُمعه واجب الاداء ده: **سوال**: (٢٣٩٦) یوه لویه قریه په کمه کی چی دری زره دوه سوه (٣٢٠٠) بنی ادمان اباد دی اویوځو دوکانونه هم هلته موجود دی، نو دحنفی مذهب موافق او دفقهی دکتابونو موافق هلته جُمعه کیږی اوکه نه؟

جواب: په داسی قریه کی جُمعه عند الحنفیة صحیح اوواجب ده، اوادا کیږی ځکه چی دا قریه کبیره ده اوپه قریه کبیره (لوی کلی) کی دشامی دتصریح موافق جُمعه صحیح کیږی. كذا فی المختار وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ ([2]).

په کوچنی کلی کی جُمعه درسته نه ده برابره خبره که هلته دوکان هم وی: **سوال**: (٢٣٩٧) په کم کلی کی چی دری څلور سوه سړی بغیر دښځو اودماشومانو څخه ابادوی اوڅلور پنځه دوکانونه وی، هلته دجُمعې لمونځ اداء کول په کاردی اوکه نه دماپښین لمونځ په جماعت سره؟

جواب: پردی باندی دولسوالۍ اودښار تعریف صادق نه راځی، اوپه کلی کی جُمعه جائز نه ده، لهذا هلته دي دماپښین لمونځ په جماعت سره اداء کوی، دماپښین پریښوول هلته حرام اومعصیت دی، كذا فی الدر المختار ([3]). فقط

دجُمعې د شرائطو د نیستوالی په صورة کی خلک بندول : **سوال**: (٢٣٩٨) په جامع جومات

([1]). ایضا. ظفیر

([2]). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٨. ظفیر

([3]). صلاة العید فی القری تکره تحریما (در مختار) ومثله الجمعة (ردالمحتار باب العیدین ج١ ص ٧٧٥ ، ط. س. ج٢ ص١٢٧) . ظفیر

کی دجُمعې په ورځ دجُمعې لمونځ کیدی یو مولوی صاحب هلته راغی او ټولو لمونځ گذاروته یی په لوړ اواز سره وویل چی ای حنفیانو! سمد ستی دجُمعې دلمانځه نیت مات کی کنی کافران به سی، ځکه چی دلته جُمعه جائزنه ده، ددی کول گناه کبیره ده، نوآیا په کم کم ځای کی اوپه کمو شرطونو سره دجُمعې لمونځ جائز دی، اوپه کم ځای کی ناجائز دی؟ که چیری په یومقام باندی کلیة دجُمعې شرائط موجود نه وی هلته دجُمعې دلمانځه په کولو سره گناه اوکفر خونه لازمیږی او دغه مولوی صاحب په خلگو باندی دلمانځه ماتولو مُجاز وو اوکه نه؟ که چیری نه وو نو هغه ته څه گناه وسوه؟

جواب: دجُمعې په باره کی داحنافو مذهب دادی چی په ښار او ولسوالۍ اولویه قریه کی په کمه کی چی دوه څلور زره سړی ابادوی او دضروری شیانو دوکانونه وی هلته جُمعه واجبه ده اواداء کیږی، البته په کوچنی کلی کی جُمعه نه صحیح کیږی، په هغه کی یی جُمعه کول مکروه تحریمی لیکلی (١) دی، لیکن کفر هغه هم نه دی، نوکه چیری هغه علاقه په کمه کی چی جُمعه کیدله ولسوالۍ یا لویه قریه وه نوجُمعه په هغه کی واجبه وه اوصحیح وه، په خلگو باندی دجُمعې لمونځ ماتول هلته حرام وو، هغه مولوی صاحب په غلطی باندی وو، چاچی په خلگو دجُمعې لمونځ مات کی، هغه دي توبه وکاږی، اوکه چیری هغه کوچنی کلی وو، نوبیشکه جُمعه کول په هغه کی مکروه تحریمی وو، دجُمعې ماتول ښه وسوه، نوپه سوال کی دالیکل په کاروه، چی دکم ځای ده داقصه څنگه علاقه ده. کوچنی ده اوکه لویه؟ اوابادی هلته څومره ده؟ اوبازار اودوکانونه پکښی سته اوکه نه، په ردالمحتار معروف په شامی باب الجُمعه کی دی وتقع فرضًا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الی ان قال وفیما ذکرنا اشارة الی انها لا تجوز فی الصغیرة الخ (٢).

دجُمعې په ورځ دجُمعې دلمانځه څخه مخکی نوکان پرېکول: **سوال**: (٢٣٩٩) دصحیح بخاری کتاب الجمعة په حدیث دسلمان ﷺ یتطهر ما استطاع الخ په شرح کی شارحینو من جمله دطهارت څخه حجامت هم داخل کړی دی اوحدیث دابوهریرة ﷺ مرفوعًا ،کان یقلم اظفاره ویقص شاربه یوم الجمعة قبل ان یخرج الی الصلوة اخرجه البزار والطبرانی والبیهقی بسند حسن هکذا فی الدر المنثور، سیوطی ص ١١٢ ج١، صریح دال دی چی دجُمعې دلمانځه څخه مخکی حجامت جوړول مسنون دی حالانکی په سندکی ابراهیم بن قدامه واقع دی، په میزان الاعتدال کی یی، لا یعرف، اوپه فتح الباری کی یی، سنده

---

(١). صلاة العید فی القری تکره تحریما (درمختار) ومثله الجمعة (ردالمحتار باب العیدین ج١ ص٧٧٥). ظفیر

(٢). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٨. ظفیر

ضعيف، ليكلي دي، او دسيوطي په جامع صغير كې دضعيف نښان باندې لګيدلي دي ليكن صاحب دفتح په لسان الميزان كې اوحافظ هيثمي په مجمع الزوائد كې دابراهيم مذكوره په باره كې ليكلي دي چې، ذكره ابن حبان في الثقات آه، په اشباه اودرمختار وغيره كې يې دجُمعې دلمانځه څخه وروسته جوړول افضل ليكلي دي دپاره دمشابهت داحرام، اوپه غنيه شرح منيه نقلاً عن السروجي كې يې دجُمعې دلمانځه څخه مخكې مستحب ليكلي دي، اوپه شامي په حظر واباحات كې يې دجُمعې دلمانځه څخه وروسته حجامت جوړول دابوهريرة ﷺ دحديث څخه خلاف ښوولي دي، آيا حديث دابوهريرة ﷺ كم چې سيوطي په سند حسن ليكلي دي في الواقع صحيح دي كه نه؟ او حجامت كول دجُمعې دلمانځه څخه مخكې ښه دي اوكه نه وروسته دجُمعې څخه؟ اوڅوك چې دبعديت قائل دي دهغوی تعليل درست دي اوكه نه؟

جواب: دشامي رحمه الله دطريقې څخه ترجيح ددې (خبرې) معلوميږي چې تقليم اظفار وغيره قبل جُمعه كيدل په كاردي، ددې دپاره چې موافق سي دحديث شريف سره، بل داچې غسل مخكې كيدل هم ددې تقاضا كوي، اوكمو فقهاء چې دجُمعې څخه وروسته ته ښه ويلي دي دهغوی نظر پردې باندې سو، لما فيه معنى الحج الخ، ياپه دې باندې، ليناله بركة الجمعة، ليكن ظاهره ده چې دمذهب قواعداوفعل دحضور ﷺ دقبليت تقاضاء كوي، وعليه مشائخنا مثل الشيخ العلامة المحقق القطب الګنګوهی قدس سره وغيره من المحققين رحمهم الله تعالى .

اودا خبره فقهاء وو اومحدثينو فيصله كړيده چې په ضعيف حديث باندې هم په فضائل اعمالو كې عمل صحيح دي اوددې حديث ضعيفوالي خومتفق عليه هم نه دي، بعضو ورته حسن ويلي دي اوبعضو ورته ضعيف. فقط

<u>دفناء مصر تعريف</u>: **سوال**: (٢۴٠٠) يوكلي دښار څخه ديوميل په فاصله كې دي دښار دفناء څخه بالكل جلادي، بعضو فقهاء وو چې تعريف دفناء معتبر ګڼلي دي نودهغوی په نزد هلته جُمعه واجبه نه ده ليكن چاچې تقدير الفناء بالمسافة فرمايلي دي دهغوی دقول مطابق هلته جُمعه واجبه ده، ځكه چې مذكور ځاي په يوه فرسخ كې دننه دي، اوپر فرسخ باندې دډيرو فتوٰی ده، نوآيا په دې كلي كې جُمعه واجب ده اوكه نه؟

جواب: تحديد بالفرسخ مطلقا معتبرنه دي بلكې په فناء دمصر كې اعتبار ددې خبرې دي چې دغه ځاي دمصر دمصالحو دپاره دي اوكه نه دي؟ كه چيرې دمصر دمصالحو دپاره نه وي بلكې ځانته كلي وي نوددې حكم دجُمعې په باره كې مستقل دي، يعنى كه چيرې هغه لوی كلي وي نو جُمعه به په هغه كې واجبيږي او اداء كيږي كنې نه به وي ، قال في

الشامی والتعریف احسن من التحدید الخ. (۱) فقط

په یوه جومات کی تعدد دجمعو مکروه دی: **سوال:** (۲۴۰۱) په یوه جومات کی دوی جُمعې جائزی دی اوکه نه؟

جواب: دجمعو تعدد په یوه ښار کی په دوو جوماتونو کی یا په زیاتو کی عند الحنفیه درست دی، کما فی الدر المختار، وتؤدی فی مصر واحد بمواضع کثیرة مطلقا علی المذهب وعلیه الفتوٰی، وفی رد المحتار قوله مطلقا ای سواء کان المصر کبیرًا او الخ وسواء کان التعدد فی مسجدین او اکثر الخ (۲).

لیکن په یوه جومات کی دجماعت تعدد مکروه دی نودجُمعې دوهم جماعت په دی صورة کی مکروه دی، لکه څنګه چی جماعت ثانیه په هغه جومات کی چی امام اومؤذن یی مقرر وی فقهاء وو مکروه لیکلی دی اوخاص کر دجُمعې دلمانځه کولو څخه وروسته یی دجامع جومات دبندولو حکم ورکړی دی په شامی کی دی، والظاهر انه یغلق ایضاً بعد اقامة الجمعة لئلا یجتمع به احد بعدها الخ. (۳)

دوهم اذان په جومات کی دننه درست دی: **سوال:** (۲۴۰۲) په جُمعه کی اذان ثانی یعنی دخطبی اذان په کم ځای کی کول په کاردی، یوعالم صاحب دلته تشریف راوړی وو، او هغوی دمنبر سره نژدی دوهم اذان کولو ته ناجائز ویلی وو، اودا یی فرمایلی وو چی دوهم اذان دجومات دروازی ته نژدی یعنی دجومات دصحن پرغاړه باندی خطیب ته مخامخ کیدل په کاردی، داخبره صحیح ده اوکه څنګه؟

جواب: دجُمعې اذانِ ثانی په جومات کی بین یدی الخطیب کول معروف اومسنون دی، دهمیشه څخه دعلماء اوفقهاء وو په همدی باندی عمل راغلی پاته سوی دی، اودفقهی په کتابونو کی ددی تصریح ده، نودې اذان ته په مسجد کی دننه منع ویل صحیح نه دی، چنانچه ددې تحقیق په ډیرو رسالو او فتواوو کی سوی دی ، په هدایه در مختار وغیره

(۱). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۹. ظفیر. پوره عبارت داسی دی: او فناء وهو ما حوله اتصل به لاجل مصالحه کدفن الموتی ورکض الخیل والمختار للفتوی تقدیره بفرسخ ذکره الولوالجی (درمختار) اعلم ان بعض المحققین اهل الترجیح اطلق الفناء عن تقدیره بمسافة وکذا محرر المذهب الامام محمد رحمه الله وبعضهم قدره بها وجملة اقوالهم فی تقدیره ثمانیة اقوال اوتسعة غلوة، میل، میلان، ثلثة، فرسخ، فرسخان، ثلاثة، سماع الصوت، سماع الاذان، والتعریف احسن من التحدید لانه لا یوجد ذلك فی کل مصر وانما هو بحسب کبر المصر وصغره ﴿ فالقول بالتحدید بمسافة یخالف التعریف المتفق علی ما صدق علیه بانه المعد لمصالح المصر ﴾ (رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۹ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۸ - ۱۳۹). ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۵۵ ط. س. ج۲ ص ۱۴۴. ظفیر

(۳). ایضا ط. س. ج۲ ص۱۵۲. ظفیر

کی دامسئله موجوده ده، هغه دي وکتل سی ([۱]). فقط

دجُمعې په ورځ په ښار کی دماپښین لمونځ: **سوال**: (۲۴۰۳) که چیری یوڅو کسان دجُمعې جماعت نه کړی پیدا نو دماپښین لمونځ په جُمعې سره وکړی اوکه نه ځان ځانته؟

جواب: ځان ځانته دي دماپښین لمونځ وکړی، دجماعت سره دي نه کوی کذا فی الدر المختار والشامی ([۲]). فقط

کله چې دخطبې کتاب هم موجود نه وی اوزبانی خطبه یی هم یاده نه وی نوڅه به کوی؟

سوال: (۲۴۰۴) که چیری په یوه جومات کی دخطبې کتاب موجود نه وی اونه ورته زبانی یاده وی نودخطبې څخه بغیر دجُمعې لمونځ دي وسی اوکه نه دماپښین لمونځ دي وسی؟

جواب: خطبه چې کمه فرض ده هغه یووار دسبحان الله یا دالحمد لله یا دالله اکبر په ویلو سره هم اداء کیږی، او دصاحبینو په نزد په قدر ددرو آیتونو یاپه قدر دتشهد سره خطبه اداء کیږی؟ نو که چیری معروفه خطبه ورته یاده نه وی نو په قدر مذکور سره پر اکتفاء کولو باندی دي دجُمعې لمونځ اداء سی ([۳]) اوپه کم ځای کی چې واجبه ده یعنی ښار او ولسوالیِ اوپه لوی کلی کی دي جُمعه پرې نه ښوول سی. ([۴]) فقط

جومات ته درسیدلو سره دي سنت وسی: **سوال**: (**۲۴۰۵**) که چیری دجُمعې په ورځ یو سړی جومات ته ولاړسی نولږ ساعت مخکی دکښېنستلو څخه وروسته سنت وغیره کول په کار دی، اوکه دتللو سره سمدستی سنت وغیره کول په کاردی؟

جواب: په حدیث شریف کی دی: اذا دخل احدکم المسجد فلیرکع رکعتین قبل ان یجلس ([۵]) ددی حاصل دادی چې کله په تاسی کی یوسړی جومات ته داخل سی نودکښېنستلو څخه مخکی دي دوه رکعاته وکړی، اودا دوه رکعاته تحیة المسجد دی، کم چې مستحب دی، په هرحال ددی څخه دامعلومه سوه چې جومات ولاړ سی نودکښېنستلو څخه مخکی نوافل یاسنت کول په کار دی، وهذا مذهب الفقهآء. فقط

([۱]). واذاصعد الامام المنبر وجلس اذن المؤذن بین یدی المنبر بذالك جری التوارث (هدایه باب الجمعة ج۱ ص**۱۵۴**). ظفیر، ویؤذن ثانیا بین یدی الخطیب ای علی سبیل السنیة کما یظهر من کلامهم رملی (رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۷۰، ط. س. ج۲ ص ۱۲۱. ظفیر

([۲]). وکذا اهل مصر فاتتهم الجمعة فانهم یصلون الظهر بغیر اذان ولا اقامة ولا جماعة (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ..... ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۲) . ظفیر

([۳]). الشرط الرابع الخطبة وعلیه الجمهور ورکنها مطلق ذکر الله تعالی بینهما عند ابی حنیفة رحمه الله وعندهما ذکر طویل یسمی خطبة وسنتها کونها خطبتین بجلسة بینهما تشتمل کل منهما علی الحمد والتشهد والصلاة علی النبی ﷺ والاولی تلاوة اية وعلی الوعظ ایضاً الخ (غنیة المستملی ص **۵۱۵**). ظفیر

([۴]). ان صلوة الجمعة فرض عین علی کل من استکمل شرائط وجوبها (غنیة المستملی ص **۵۰۸**) . ظفیر

([۵]). مشکوٰة باب المساجد ومواضع الصلوة فصل اول ص ۶۸. ظفیر

په قصباتو کې جُمعه درسته ده: سوال: (٢۴٠٢) په یوځای کې دمسلمانانو ابادی دومره ده چې کله هغوی دهغه ځای جومات ته داخل سی نوټول پکښې نه سی راتلی. په ټوله ابادی کې دوه نیم سوه کورونه دی چې په دی کې (٩۵) کورونه دمسلمانانو دی اواولس دوکانونه دی په کمو کې چې کپړې لوښې، متاپانی اوضروری شیان پیدا کیدی سی، نو آیا په دی ابادی کې جُمعه کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: په شامی کې دی چې جُمعه په قصباتو کې اوپه لوی کلی کې په کم کې چې بازار وی اداء کیږی، نوکه چیری ددی کلی ابادی په مثل دکوچنی ولسوالی مثلاً دری څلور زره بنی آدمان وی اوپه دی کې بازار هم وی نوهلته جُمعه واجب اواداء کیږی ، کنی نه به اداء کیږی، او، ما لایسع اکبر مساجد اهله المکلفین الخ داتعریف حقیقی اوکلی نه دی، چې په کم ځای کې داتعریف پیداسی هلته دی جُمعه واجبه سی. وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الی ان قال وفیما ذکرنا اشارة الی انها لا تجوز فی الصغیرة ([1]) . فقط

په کم ځای کې چې جُمعه جائز وی هلته دجومات څخه علاوه په نورو ځایونوکې هم دجُمعې لمونځ جائزدی: سوال: (٢۴٠٧) دیوه ښار په ډیرو جوماتونو کې جُمعه جائز ده، نو علاوه دجومات څخه په یوه کارخانه یاکور کې که دجومات په شان خلګ راجمع سی اوجُمعه وکړی نوڅنګه دی؟ آیا جُمعې دپاره مسجد ضروری دی؟

جواب: په ښارونو اوقصباتو کې دجُمعې داداء کیدلو دپاره دجومات موجودوالی شرط نه دی، دجوماتونو څخه علاوه په نورو کورونو اوکارخانو کې اومیدانونو کې هم جُمعه صحیح ده، کما فی الدرالمختار، وتؤدی فی مصر واحد بمواضع کثیرة علی المذهب ([2]) وعلیه الفتوٰی. فقط

دخطبې په وخت کې په زوره دعاګانی اودرود ویل نه دی په کار: سوال: (٢۴٠٨) په خطبه کې آیت کریمه، ان الله وملئکته یصلون علی النبی الایة، چې واوری نومقتدیان درود شریف وایی اودحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دنوم اوریدلو سره رضی الله عنه په زوره یاپه کرار ویل او، اللهم اید الاسلام رحمه الله او دنورو دعاګانو اوریدلو څخه وروسته آمین جلی اوخفی ویل جائزدی اوکه نه؟ اوپه سور دستمال سره چې وریښمی وی یاغیر وریښمی پټکی تړل او لمونځ ورسره کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: فقهاوو دالیکلی دی چې کم وخت خطیب آیت کریمه، ان الله وملئکة یصلون علی

([1]). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧۴٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٨. ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧۵۵ ، ط. س. ج٢ ص١۴۴. ظفیر

النبی الآیه، ووایی نو اوریدونکی دي په زړه کی درودشریف ووایی، په ژبی او آواز سره دي نه وایی، په شامی کی دی، وکذالك اذا ذکر النبی ﷺ لا یجوز ان یصلی علیه بالجهر بالقلب وعلیه (۱) الفتوٰی ؒ اوپه درمختار کی دی: والصواب انه یصلی علی النبی ﷺ عند سماع اسمه فی نفسه الخ (۲) نو ماسوا ددرود شریف څخه په ذکر سوی کیفیت سره نورځه ویل اوریدونکو ته نه دی په کار، نه دی ﷺ په زوره وایی اونه دي آمین په جهر سره وایی، اونه دي په ژبی سره وایی، که په زړه کی یی ووایی بغیر دژبی څخه نو څه حرج نسته، او دوریښمی دسمال اودستار سره لمونځ کول یا ورکول مکروه دی (۳). فقط

دفناء په تعریف کی اختلاف اوراجح قول: **سوال**: (۲۴۰۹) مولوی عبد الجبار مرحوم په خپله فتاوٰی ص ۲۱ کی دجُمعې فی القرٰی په باره کی دحنفیانو مذهب لیکی، اوهغه ځای چی په مسافت کی د (۴۸) میلو څخه کم وی که څه هم هغه قریه کوچنی وی نوهغه هم دمصر حکم لری، په مواهب الرحمٰن اودهغه شرح برهان کی لیکلی دی، ویوجبها ابو یوسف علی من کان داخل حد الاقامة الذی من فارقه یصیر مسافرا اومن وصل الیها یصیر مقیما وهو الاصح، اوپه عمده حاشیه شرح وقایه کی دی، قال فی معراج الدرایة انه اصح ماقیل فیه، آیا ددی روایت معنٰی اومطلب هم هغه دی کم چی مولوی صاحب مرحوم لیکلی دی اوکه نه بل څه دی، اوددی معنٰی اومطلب په واضح طور سره ولیکی؟

جواب: داروایت عند المحققین من الحنفیة صحیح اومختارنه دی لکه څنګه چی شامی ویلی دی: ان بعض المحققین من اهل الترجیح اطلق الفناء عن تقدیره بمسافة وکذا محرر المذهب الامام محمد ؒ وبعضهم قدره بها وجملة اقوالهم فی تقدیره ثمانیة اقوال او تسعة غلوة، میل، میلان، ثلثة، فرسخ، فرسخان، ثلاثة، سماع الصوت، سماع الاذان، والتعریف احسن من التحدید الخ (۴) ددی څخه دامعلومه سوه چی محققینو تحدید بالمسافه نه دی کړی او دتحدید څخه تعریف عمده دی، اوتعریف دفناء دمصر دا دی چی کم دمصر دمصالحو لکه دفن موتٰی اورکض خیل وغیره دپاره مقرر وی. فقط

په هندوستان کی ددار الحرب کیدلو په صورة کی هم جُمعه جائز ده: **سوال**: (۲۴۱۰) که چیری هندوستان دار الحرب وګرځول سی نوجُمعه فرض ده اوکه نه؟ او دمسلمان بادشاه

---

(۱). الدر المختار باب الجمعة ج۱ ص۷۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۸. ظفیر
(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۵۹. ظفیر
(۳). لان الصلوٰة فی الحریر مکروهة للرجال (شرح الحموی علی الاشباه والنظائر ص ۱۹۷). ظفیر
(۴). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۹ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۹. ظفیر

دشرط کیدلو جواب به څه وی؟

جواب: جُمعه بیاهم فرض ده او دبادشاه مسلمان کیدل ددی دپاره شرط نه دی، په شامی کی دی، فلو الولاة کفاراً یجوز للمسلمین اقامة الجمعة ویصیر القاضی قاضیا بتراضی المسلمین الخ، (۱) ص ۵۴۰.

کمه قلعه چی په فناء دمصر کی ده په هغه کی جُمعه درسته ده: **سوال**: (۲۴۱۱) په یوه قلعه کی (۵۰۰) سړی اوسیږی اویو دوکان هم سته، ټول شیان نه پیدا کیږی اوسرکاری هسپتال هم سته، په یونیم میل فاصله کی یو لوی بازار ده هلته ټول شیان پیدا کیږی، دپیاده فوج دقطې دوجی دجُمعې دلمانځه دپاره بازار ته دورتللو حکم نسته، نوپه قلعه کی دجُمعې لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: ظاهره داده چی دغه قلعه دذکر سوی بازار په فناء کی داخله ده، اودجُمعې لمونځ په هغه کی صحیح دی، کمافی عامة کتب الفقه من جواز الجمعة فی المصر وفناء المصر (۲). فقط

په ښارکی دجمعو تعدد جائزدی: **سوال**: (۱۴۱۲) دیوښار په جامع جومات کی یوعالم صاحب امام اوحافظ دقرآن کریم موجوددی، زید یوحافظ دهلکانو دتعلیم دپاره مقرر کړی اودجومات څخه بیل سی اودخپل قوم خلګ جلا کړی، په حافظ مذکور پسی په بل جومات کی کم چی یوی فاحشی ښځی جوړ کړیدی جمع اوتراویح کوی اودجامع جومات جماعت ته وایی تاته دی جمات ته راتلل په کاردی، په دی مسئله کی شرعًاڅه حکم دی؟

جواب: داحنافو صحیح اومفتٰی به مذهب دادی، چی په یوه ښار کی په ډیرو ځایونو کی جُمعه جائز ده، کما فی الدر المختار وتؤدی فی مصر واحد بمواضع کثیرة مطلقا علی المذهب (۳) وعلیه الفتوی، اوداهم شرعی حکم دی چی کم جومات قائم سو او وقف سو دهغه ابادول اواباد ساتل پر مسلمانانو باندی لازم دی (۴)، اودا هم مسلمه ده چی غیر طیب مال په جومات کی مصرفول مکروه (۵) دی، لیکن ددی ګناه به په غیر طیب مال

---

(۱). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۵۴، ط. س. ج۲ ص۱۴۴. ظفیر

(۲). ویشترط لصحتها الخ المصر الخ او فناءه وهو ما حوله اتصل به اولا الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۹، ط. س. ج۲ ج ۱۳۷ - ۱۳۸. ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۵۵، ط. س. ج۲ ص۱۴۴. ظفیر

(۴). لولم یکن لمسجد منزله مؤذن فانه یذهب الیه ویؤذن فیه ویصلی ولو کان وحده لان له حقا علیه فیؤدیه (رد المحتار، مطلب فی احکام المسجد ج۱ ص ۲۱۷، ط. س. ج۲ ص ۱۵۹). ظفیر

(۵). قال تاج الشریعة اما لو انفق فی ذلک مالا خبیثا او مالا سببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لا یقبل الا الطیب فیکره تلویث بیته بما لایقبله (ردالمحتار باب مایفسدالصلوة ومایکره فیها، مطلب احکام المسجد ج۱ ص۶۱۲). ظ

لگونکي باندي وي، په دي سره به ددغه مسجد مسجد والي باطل نه سي نوداسي صورة کول په کاردي چي کم مال غير طيب په دي جومات کي لگول سوي دي دهغه معاوضه دي په حلال مال سره دغه غير طيب مال لگولو والا ته ورکول سي، دپاره ددي چي دغه جومات دغير طيب مال څخه پاك سي، اوکم جومات چي مسلمانانو جوړ کړيدی هغه ته مسجد ضرار ويل نه دي پکار، ځکه چي مسجد ضرار منافقانو اوکافرانو جوړکړی وو، اونيت دهغوی خراب وو، دمسلمانانو دطرف څخه حسن ظن کول په کاردي اوبدګماني کول نه دي په کار.

(قال الله تعالىٰ: يا ايها الذين امنوا اجتنبوا كثيراً من الظن ان بعض الظن اثم (١)، الايه، ترجمه: ای ايمان والاوو! ډيرو ګمانونو څخه ځان وساتي، بی شکه بعضی ګمان ګناه وی. وقال ﷺ فان الظن اكذب الحديث (٢)، ترجمه: بيشکه بدګماني دروغ خبره ده.

وقال ﷺ انما الاعمال بالنيات ولكل امرإ ما نوىٰ (٣)، الحديث، ترجمه: مدار داعمالو پر نيت باندي دي اودهر يوه سړي دپاره هغه شي دي دکم چي هغه نيت وکړي.

نوکه چيري په دواړو جوماتونو کي جُمعه کيږي نودواړه ځايه صحيح ده، په چا باندي طعن اوبدګماني کول نه دي پکار، اومسلمانانو ته په خپلو کي په اتفاق سره اوسيدل په کاردي اوپنځه وخته جماعت په دواړو جوماتونو کي کول ضروري دي ځکه چي هيڅ يو جومات غير اباد ساتل نه دي په کار، او دتراويحو جماعت هم په دواړو جوماتونوکي ښه خبره ده، ليکن داخبره بده ده چي دبل جومات لمونځ ګذار په دي غرض سره جلا سي چي اول جومات خالي سي، البته داويل کيدی سي مسلمانانو ته چي دواړه جوماتونه آباد ساتي څه دلته لمونځ کوی اوڅه هلته، غرض دا چي اتفاق او اتحاد محمود دي او اختلاف اوافتراق قبيح اومذموم دی، قال الله تعالىٰ: واعتصموا بحبل الله جميعا ولاتفرقوا، الايه (٤). فقط

<u>داسماء په تکيه سره خطبه مکروه نه ده</u>: سوال: (٢٤١٣) خطيب لره دخطبي په وخت کي امساء اخيستل مسنون دي اوکه مکروه دي؟ په درمختار کي يې مکروه ليکلي دي، او دحديث شريف څخه يې سنت کيدل معلوميږي دتطبيق يې څه صورة دي؟

جواب: په در مختار کي يې دخلاصي څخه کراهت اتکاء على القوس و العصا ، نقل کړي

---

(١). سورة الحجرات

(٢). مشكوة شريف.

(٣). مشكوة قبيل كتاب الايمان. ظفير

(٤). سورة النساء.

دی، لیکن په حلیه کی یې داخبره دحدیث شریف دمخالفت په وجه ردکړیده، اوقهستانی دمحیط څخه نقل کړی دی، ان اخذ العصا سنة کالقیام (۱) نودشامی وغیره دتحقیق څخه همدا معلومیږی چی دامساء نیولو ته مکروه ویل نه دی په کار، اودتطبیق صورة داهم کیدی سی کم چی دعلامه مجد الدین فیروز ابادی [صاحب القاموس] څخه په سوال کی منقول دی چی دمنبر جوړیدلو څخه مخکی دامساء اخیستل ثابت دی بیا دمنبر جوړیدلو څخه وروسته متروکه سوه، نوبعضو فقهاء وو به په همدی بناء باندی مکروه ویلی وی.

په کم ځای کی چی دغواقربانی نه کیږی هلته هم دجُمعې اوداختر لمونځ درست دی: سوال: (۲۴۱۴) دنیپال په ریاست کی چیری چی دغوا قربانی دمها راجه په حکم سره بنده ده، هلته دجُمعې او داخترونو لمونځ کیدی سی، اوکه نه؟

جواب: دجُمعې او داخترونو لمونځ هلته صحیح دی اواداء کیږی. (۲) فقط

دخطبی په وخت کی سنت درست نه دی: سوال: (۲۴۱۵) یوسړی دجُمعې دخطبی په وخت کی دوه رکعاته سنت کوی اوبل سړی یی منع کوی، سنت کونکی حدیث شریف دصحیحینو پیش کوی، چی په یو حدیث شریف کی رسول الله ﷺ یوسړی ته وفرمایل: کم چی دخطبی په وخت کی راغلی وو، چی ولاړ سه اودوه رکعاته وکړه، په بل حدیث شریف کی هغوی ﷺ فرمایلی دی: چی کم سړی دجُمعې په ورځ په داسی وخت کی راسی چی امام خطبه وویل، نوهغه ته په کاردی چی دوه رکعاته وکړی. اومنع کونکی سړی آیت کریمه، واذا قرئ القرآن، الایة، پیش کوی اووایی چی خطبه اوریدل فرض دی، نو دخطبی په وخت کی سنت کول درست نه دی؟

جواب: دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب هم دادی چی دخطبی اوریدل فرض دی او دغه وخت نفل وغیره کول ممنوع دی، لقوله تعالی واذاقرئ القرآن فاستمعواله وانصتوا (۳) اوددی آیت کریمه نزول دلمانځه په باره کی دی، دادواړه قولونه مفسرینو اومحققینو نقل کړی دی، صاحب دجلالین دخطبی په باره کی ددی نزول لیکلی دی، اوصاحب دکمالین دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه ددی سند ذکر کړی دی، اونور روایات یی په باره دنزول فی الصلوٰة کی هم نقل فرمایلی دی، په هرحال خطبه هم په دی حکم کی داخله ده، اوصاحب دکبیری دخطبی په وخت کی دلمانځه ممانعت داحادیثو داثارو روایتونو څخه

---

(۱). وګوری ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۷۲ ، ط. س. ج۲ ص۱۶۳. ظفیر

(۲). وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق (رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ ، ط. س. ج ۲ ص ۱۳۸) . ظفیر

(۳). الاعراف : ۱۴. ظفیر

ثابت فرمایلی دی چی هغوی لیکی: ولابی حنیفة رحمه الله ماذکر ابن ابی شیبة فی مصنفه عن علی وابن عباس وابن عمر رضی الله عنهم کانوا یکرهون الصلاة والکلام بعد خروج الامام (الی ان قال) اخرج الستة عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا قلت لصاحبك یوم الجمعة انصت فقد لغوت وهذا یفید بعبارته منع الامر بالمعروف مع انه واجب وبدلالته منع صلٰوة النفل والقراءة والاذکار لانه اذا منع الواجب فالنفل اولٰی بالمنع ویرجح علی سائر الاحادیث الدالة علی جواز تحیة المسجد او اباحة الکلام لانه محرم والمحرم مرجح علی المبیح ([1]) الی آخر ماقال رحمه الله تعالٰی.

نو وګوری ددی عبارت څخه واضحه سوه چی دمنع حدیث لره ترجیح ده پرحدیث دجواز باندی، په دی وجه چی حدیث دمنع محرم دی اوحدیث دجواز مبیح، اومحرم لره پر مبیح باندی ترجیح وی، اوبل داچی محققینو علماء وو دحدیث دجواز داجواب هم ورکړی دی چی هغه واقعه خاص ده، او دحضور صلی الله علیه وسلم خصوصیت دی چی هغوی صلی الله علیه وسلم خاص سړی ته په یوخاص وجه سره اجازه ورکړه، عام حکم هم هغه دی، کم چی دنورو احادیثو اودنصوصو څخه ثابت دی، یعنی منع والی دلمانځه وغیره په وخت دخطبی کی. فقط

<u>په غیرعربی ژبه کی خطبه دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد</u>: سوال: (۲۴۱۶) حضرت امام اعظم رحمه الله چی بی عذره دعربی ژبی څخه ماسوا په بله ژبه کی خطبی ویل جائز فرمایی، دا دحدیث څخه مخالف ده ددی څخه څه مراد دی؟

جواب: دامام صاحب رحمه الله مراد اداء مع الکراهت ده، کما صرح به الفقهاء. فقط

<u>درمضان المبارک په آخری جُمعه کی الوداع الفراق ثابت نه دی</u>: سوال: (۲۴۱۷) درمضان المقدس داخری جُمعې په خطبه کی چی کم کلمات دحسرت او دافسوس الوداع اوالفراق الفراق باندی مشتمل دی، دا دحدیث شریف څخه ثابت دی اوکه نه؟

جواب: ثابت نه دی. ([2]) فقط

<u>په کمه قلعه کی چی دتلو راتلو عامه اجازه نه وی په هغه کی جُمعه درسته نه ده</u>: سوال: (۲۴۱۸) په یوه قلعه کی دآمد اورفت دپاره عامه اجازه نسته، په دی وجه ویل کیږی چی په دی قلعه کی جُمعه جائز نه ده، دباندی جائز ده چیری چی عام خلګ شریك سی؟

جواب: اذن عام بی شکه دجُمعې دپاره شرط دی دصحت، نوکله چی په دغه قلعه کی عامو لمونځ ګذارو ته دتللو اجازه نسته نو هلته به جُمعه صحیح نه وی ، کذا فی الدر

([1]). غنیة المستملی المعروف بالکبیری باب الجمعة البحث الثانی ص ۵۱۹ – ۵۲۰ . ظفیر

([2]). وعلی هٰذالخلاف الخطبة وجمیع اذکار الصلوة (درمختار) رکن سیاتی کراهة الدعاء بالاعجمیة (ردالمحتار صفة الصلوة فصل ج۱ ص۴۵۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۸۴) . ظفیر

المختار والشامی وغیرهما [1]. فقط

دجُمعې دپاره دځومره لمونځ ګذارو موجودګی ضروری ده؟ سوال: (۲۴۱۹) دجُمعې لمونځ په یوه جومات کی دوولس میاشتی دوی بجی کیږی اواکثره په ډیر تعداد کی لمونځ ګذاروی لیکن تیره جُمعه چی دلمانځه وخت سو نولمونځ ګذار دامام سره څلور کسان وه، په داسی حالت کی دجُمعې لمونځ شروع کول په کاردی اوکه نه یو خاص تعداد دی چی دهغه انتظار دجُمعې دپاره کول په کاردی، یعنی دڅلورو کسانو په موجودګی کی خطیب دخطبی ورکولو دپاره ودریږی اوکه نه؟ اوکه داوو ۷ کسانو په لازمی طور سره انتظار کول په کار دی؟

جواب: دجُمعې دجماعت دپاره ددرو مقتدیانو موجودوالی ضروری دی، نوکه چیری صرف دری کسان علاوه دامام څخه موجود وی نوامام دي خطبه شروع کړی، او دجُمعې لمونځ دي اداء کړی نو دجُمعې لمونځ به صحیح سی، کما فی الدر المختار، والسادس الجماعة واقلها ثلثة رجال ولو غیر الثلاثة الذین حضروا الخطبة سوی الامام الخ [2]، درمختار وکذا فی الشامی. فقط

په کلی اوځنګل کی جُمعه درسته نه ده: سوال: (۲۴۲۹) لس شل کسان یوځای سفرکوی لیکن سفر شرعی نه دی، یا لس دولس کسان پیاده فوج روان دی، نوپه لاره کی دی خلګو لره دجُمعې لمونځ کول پکاردی اوکه نه؟ کلی ته ولاړ سی اوپه جومات کی یی وکړی په کم کی چی جُمعه نه کیږی ؟

جواب: په کلی اوځنګل کی جُمعه درسته نه ده، جُمعه په هم هغه ځای کی صحیح کیږی په کم ځای کی چی شرط دصحت پیدا سی، یعنی هغه علاقه دښار یا ولسوالۍ یاقریه کبیره وی. کما فی الشامی تقع فرضًا فی القصبات والقرٰی الکبیرة التی فیها اسواق الخ وفیما ذکرنا اشارة الی انها لا تجوز فی الصغیرة الخ. [3] فقط

په جُمعه کی خطبه مختصر پکار ده اوقرآئت مسنون: سوال: (۲۴۲۱) په جُمعه کی قرآئت اوږد پکاردی اوکه خطبه؟

جواب: خطبه مختصره په کار ده اوقرآئت دسنت موافق کول په کاردی لکه سَبِّح اسْمَ رَبِّكَ

---

[1]. والسابع الاذن العام من الامام وهو یحصل بفتح ابواب ..... دین ؒ فلو دخل امیر حصنا او قصره واغلق بابه وصلی باصحابه لم تنعقد ولو فتحه واذن الناس بالدخول جاز (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص۷۷۱ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۱) . ظفیر

[2]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۷۰ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۱ . ظفیر

[3]. ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۳۸. ظفیر

الْاَعْلٰی، وغیرہ ([1]). فقط

جُمعه پرېښوول ګناه ده: سوال: (۲۴۲۲) که چیری یوسړی دډاکخانی کارګر وی او دکار ګری په وجه دجُمعې لمونځ نه سی کولی نوپه داسی موقع کی دجُمعې په پرېښوولو سره څه ګناه خوبه نه وی، که څه هم جومات بالکل نژدی وی؟

جواب: په داسی حالت کی چی جُمعه باندی فرض وی دجُمعې پرېښوول سخته ګناه ده او کبیره ګناه ده او دجُمعې په پرېښوولو باندی په احادیثو مبارکهؤ کی سخت وعید وارد سویدی، په یوه حدیث شریف کی دامضمون دی چی کم خلګ جُمعه ترك کوی نو په کار دی چی هغوی دي دجُمعې پرېښوولوڅخه منع سی کنی الله ﷻ به دهغوی پرزړونو باندی مهر ولګوی، بیابه هغوی دغافلانو څخه سی، ([2]) نوحتی الوسع کوشش کول پکاردی چی په ښار اوولسوالی کی اوسیږی، نوجُمعه دي پاته نه سی اوکه چیری کله اتفاقا دمجبوری په وجه پاته سوه نو دماپښین لمونځ اداء کول په کار دی اودجُمعې پرېښوولو څخه توبه کښل په کاردی. ([3]) فقط

امام دجُمعې دپاره دباندی ولاړ سی اوکه دماپښین امامت وکړی؟ سوال: (۲۴۲۳) دکلی امام دجُمعې په ورځ بلی ولسوالی یاښار وغیره ته دجُمعې دلمانځه دپاره ځی، نوآیا مام لره په خپل کلی کی دماپښین جماعت ورکول بهتر دی اوکه بل ځای ته ولاړ سی دجُمعې لمونځ وکړی، ددینیاتو په کتابونو کی مودا لیکلی لیدلی دی چی چا دری ۳ یا څلور ۴ جُمعې پرېښوولی نوداسی دی لکه چی هغه اسلام ته شاه کړه، ددی څه مطلب دی؟

جواب: داپه حدیث شریف کی وعید پر جُمعې پرېښوولو باندی راغلی دی، ددی مطلب خودادی چی کم ځای جُمعه فرض وی اوبیا یوسړی بی عذره پرچا باندی چی جُمعه فرض ده جُمعه پرېږدی نودهغه دپاره داوعید دی، اوقریه صغیره چیری چی جُمعه فرض نه ده اوجُمعه هلته نه اداء کیږی، نوهلته داوعید اوداحکم نسته، بلکی دهغوی دپاره داحکم دی چی هغوی ته په کلی کی دماپښین لمونځ په جماعت سره کول پکاردی، لیکن که یو سړی ولسوالی یاښارته ولاړنه سی هغه دي په کلی کی دماپښین لمونځ وکړی، هغه ته به

([1]). ویسن خطبتان خفیفتان وتکره زیادتهما علی قدر سورة من طوال المفصل (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۵۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۴۸). ظفیر

([2]). عن ابن عمر وأبي هريرة أنهما قالا: سمعنا رسول الله ﷺ يقول على أعواد منبره: لينتهين أقوام عن ودعهم الجمعات أو ليختمن الله على قلوبهم ثم ليكونن من الغافلين. رواه مسلم (مشكاة، باب وجوبها (اى الجمعة) فصل اول ج۱ ص۱۲۱). ظفیر

([3]). قال الله تعالى يا ايها الذين اٰمنوا اذا نودی للصلوة من يوم الجمعة فاسعوا الى ذكر الله وذروا البيع، (سورة الجمعة ركوع : ۲). ظفیر

دجُمعې دپاره ولسوالۍ وغيره ته دنه تللو په وجه څه ګناه نه وی (١). فقط

په خطبه کی به څه څه ويل کيږی؟ **سوال**: (۲۴۲۴) دجُمعې دلمانځه په خطبه کی دمينځنی جلسی داستراحت څخه وروسته ثومره خطبه ويل په کاردی اوپه هغه کی دي څه مضامين وی؟ ايا صرف يوڅو کلمات دحمد اوپه يو قرانی آيت کريمه سره به دوهمه خطبه پوره سی؟ اوايا نعت دحضور پاك سردار عالم ﷺ درود شريف اوذکر دخليفه ګانو کبارو رضوان الله عليهم اجمعين اوداهل بيتو کرامو ﷺ اومومنانو ددعاء په پريښولو سره به خوڅه نقصان نه واقع کيږی؟

جواب: په شامی کی دی چی په اوله خطبه کی دباری تعالٰی حمد اوثنا او شهادتين او درود شريف اودوعظ اودنصيحت وغيره مضامين ويل پکاردی بيايی ليکلی دی، والثانية کالاولی، يعنی دوهمه خطبه هم په شان داولنی خطبی ده، هم هغه امور په دی کی هم کيدل په کاردی ليکن دوعظ اودنصيحت پرځای دي دمسلمانانو دپاره دعا وسی اوذکر دخلفاء راشدينو وغيره ﷺ هم مستحب (٢) دی. فقط

امام دخطبی په وخت کی دچا تعظيم وکی اوهغه يی منبر ته راوستی نو لمونځ وسو اوکه نه؟

سوال: (۲۴۲۵) امام دخطبی په حالت کی خطبه بنده کړه او ديوچا تعظيم يی وکی اوهغه يی منبرته وخيژوی بيايی باقی خطبه اداء نه کړه، نولمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: لمونځ وسو (٣) خو دبيا دپاره داسی کول نه دی په کار.

دسلطان المعظم نوم په خطبه کی اخيستل اودعاء ورکول څنګه دی؟ **سوال**: (۲۴۲٦) دسلطان المعظم په نوم اخيستلو سره دجُمعې او داخترونو په خطبه داصلاح اودترقی او دنصرت علی الاعداء دعاء کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ويندب ذکر الخلفاء الراشدين والعمين لا الدعاء للسلطان وجوز القهستانی ويکره تحريماً وصفه بما ليس فيه الخ، اوپه شامی کی دی، بل لا مانع من استحبابه فيها کما يدعی لعموم المسلمين فان فی صلاحه صلاح العالم الخ (٤)،

---

(١). ومن لاتجب عليهم المجمعة من اهل القرٰی والبوادی، لهم ان يصلوا الظهر بجماعة يوم الجمعة باذان واقامة (عالمگيری مصری الباب السادس عشر فی الجمعة ج١ ص١٣٢ ، ط. ماجديه ج٢ ص١٤٥). ظفير

(٢). ويسن ذکر الخلفاء الراشدين والعمين (درمختار) ويبدء ای قبل الخطبة الاولی بالتعوذسراثم بحمدالله تعالی والثناء عليه والشهادتين والصلاة علی النبی ﷺ والعظة والتذکير والقراءة قال فی التجنيس والثانية کالاولی الا ان يدعوا للمسلمين مکان الوعظ (ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٥٩ ، ط.س. ج٢ ص ١٤٨-١٤٩). ظفير

(٣). کفت تحميدة اوتهليلة اوتسبيحة للخطبة المفروضة مع الکراهة، وقالا لابد من ذکر طويل الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٥٨ ، ط. س. ج٢ ص١٤٨ – ١٤٩). ظفير

(٤). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٥٩ ، ط. س. ج٢ ص ١٤٨ – ١٤٩. ظفير

ددی څخه معلومه سوه چی ذکر سوی دعاء هم جائز بلکی مستحب ده. فقط

په کالاپانی کی جُمعه جائز ده: **سوال**: (۲۴۲۷) زه نن سبا دکارگری په سلسله کی په هغه ځای کی یم کم ته چی په هندوستان کی کالا پانی ویل کیږی، دلته تقریبا دولس زره قیدیان دی، اودوه زره ازاد (کسان) دی، دازادو مسلمانانو ټول تعداد دپنځو سوو څخه کم دی، دلته بازار سته، اوټول ضروری شیان دخوراك او داغوستلو پیداکیږی، ایاجُمعه جائزده اوکه نه؟ ددی ځای په جوماتونو کی امامان قیدیان دی، نو دازادو خلګو لمونځ په هغوی پسی درست دی اوکه نه؟

جواب: دجُمعې لمونځ په ذکرسوی مقام کی جائزدی، هلته دجُمعې دلمانځه اداء کول پکار دی ([1])، اوپه قیدی امام پسی دغیر قیدی لمونځ صحیح دی ([2]). فقط

په کوچنی کلی کی جُمعه درسته نه ده برابره خبره ده که مصلحت پکښی هم وی: **سوال**: (۲۴۲۸) په یوکلی کی داحمدی جماعت ډیر زور وو، بنده هلته داسلام اشاعت وکی، چی په یوه کال کی دهغه کلی خلګ ټول مسلمانان سول، بغیر داوو اتو کسانو څخه چی هغوی پردی بده لاره باندی پاخه دی اوپه جومات کی زموږ دخل سویدی، هغوی ته ځای نه ورکوی، چونکی ذکرسوی کلی کوچنی دی شرائط دجُمعې پکښی نه پیدا کیږی صرف دمقابل دلیری کولودپاره که چیری څه موده دجُمعې لمونځ پکښی مصلحةً وسی نوشرعا څه حکم دی؟ اوتاسی یوه جائزه طریقه تحریر وفرمایی په کمی سره چی خبره دهغوی په پوهه کی راسی؟

جواب: په کوچنی کلی کی دحنفیانو په نزد دجُمعې دقائمولو اجازه نسته، اوجُمعه نه اداء کیږی بلکی مکروه کیږی، ([3]) نودڅه رعایت په وجه سره دمکروه فعل اختیارول او د ماپښین فرض لمونځ پریښوول مناسب نه دی، نودغه خلګ په بلی طریقی سره پوهه کړی، اوکله کله خلګ راجمع کړی، یادجُمعې په ورځ خلګ راجُمعه کړی دماپښین دلمانځه څخه وروسته دوعظ په طریقه سره هغوی وپوهوی اومسائل وروښیاست. فقط

الوداع وغیره ویل دروافضو شعاردی: **سوال**: (۲۴۲۹) په رمضان المبارك کی په اخری جُمعه

([1]). وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ ، ط. س. ج ۲ ص ۱۳۸) . ظفیر

([2]). وشرط لافتراضها اقامة ۞ بمصر ۞ وعدم حبس ۞ ان اختار العزیمة وصلاها وهو مکلف ۞ وقعت فرضا عن الوقت ۞ ویصلح للامامة فیها من صلح لغیرها فجازت لمسافر وعبد ومریض ۞ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۲۲ و ۷۲۴ ، ط. س. ج۲ ص۱۵۳ او۱۵۴) . ظفیر

([3]). صلوٰة العید فی القریٰ تکره تحریما (درمختار) ومثله الجمعة (ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۵ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۷). ظفیر

کی داسی خطبه ویل په کمه کی چی الفاظ دالفراق یا د الوداع یاشهر رمضان وی جائز دی اوکه نه؟

جواب: داسی خطبه ویل جائزنه دی، علماء ددی څخه منع فرمایلی ده اودایی دروافضو شعار لیکلی (۱) دی. فقط

پرکلیوالو باندی دجُمعې داداء کولو دپاره ښارته تلل لازم نه دی: **سوال**: (۲۴۳۰) ایاپه حدیث شریف کی داحکم راغلی دی چی دکلی والا دي دومره لیری دجُمعې داداء کولو دپاره ځی چی ماښام ته کورته راواپس سی کنی گنهگار به وی، موږ خلگ زمینداران یو موږ ته کله وخت وی اوکله نه وی، نوموږ گنهگار یو اوکه نه؟

جواب: کلیوالو لره ښار ته دجُمعې دلمانځه دپاره تلل ضروری نه دی برابره خبره ده که ښار هرڅومره نژدی وی، البته که چیری کم سړی په سهولت سره تللی سی نوښار ته دجُمعې دلمانځه دپاره تلل دثواب کاردی، اوکه ولاړ نه سی نوڅه گناه نسته، ځنگه چی په حدیث شریف کی راغلی دی، چی دمدینی طیبی په شاوخوا کی چی کم کلی وه هلته ټول خلگ همیشه په مسجدِ نبوی کی دجُمعې دلمانځه دپاره نه راتلل بلکی کله کله به یو سړی اوکله کله به بل سړی راتلی یعنی چاته به چی فرصت وو اوزړه به یی وغوښتی هغه به راتلی اوچی چاته به موقع پیدانه سوه هغه به نه راتلی، نواوس هم دغه حکم دی (۲). فقط

په کارخانه کی جُمعه جائزده: **سوال**: (۲۴۳۱) زه په کارخانه موټر یاکمپنۍ کی کارگر یم، غرمی ته صرف یوساعت اجازه دخوراك اودچښاك دپاره راکول کیږی، په داسی صورة کی چی جامع جومات په ډیره لیری فاصله کی دی، خوراك اوچښاك اودجُمعې لمونځ ته فراغت گران دی، نوکه چیری په همدغه کارخانه کی چی دکارگری ده (دجُمعې لمونځ) اداء سی، نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: که چیری دموټرو دغه کارخانه ددغه ښار دمتعلقاتو څخه وی په کم کی چی جامع جومات دی، یعنی په فناء دښار کی واقع وی لکه ځنگه چی دښار څخه دباندی گودامونه اوکارخانی دهمدغه ښار متعلقات وی نوپه داسی حالت کی یوڅو کسان راجمعه کیدلی او دجُمعې لمونځ په همدغه کارخانه کی اداء کولی سی، ځکه چی دجُمعې لمونځ څه رکم چی په ښارکی صحیح کیږی،نوهم دغه رکم دښار دباندی دښارپه متعلقاتوکی هم صحیح

(۱). قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهورد، رواه مسلم (مشکوٰۃ ص ۲۷). ظفیر

(۲). ومن لا تجب علیهم الجمعة من اهل القری والبوادی لهم ان یصلوا الظهر بجماعة یوم الجمعة باذان واقامة (عالمگیری مصری الباب السادس عشر فی الجمعة ج۱ ص۱۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۱۴۵). ظفیر

دی۔ ([1]) فقط

دجُمعې آیت قطعي الدلالت دی: **سوال:** (۲۴۳۲) یاایها الذین امنوا اذا نودی للصلوٰة الآیه، آیت کریمه مطلق دی اوکه مقید دی؟ اوقطعی دی اوکه ظنی؟

جواب: دجُمعې دفرضوالی په باره کی داآیت مبارك قطعی الدلالت دی ([2]) لیکن په اتفاق دائمه وو او مجتهدینو رحمهم الله عام او مطلق نه دی، بلکی مخصوص او مقید دی، او مشروط دی سره دشرائطو، دکمو تفصیل چی دفقهی په کتابونو هدایی اوپه درمختار وغیره کی درج ([3]) دی. فقط

دجُمعې نیت: **سوال:** (۲۴۳۳) دجُمعې دلمانځه نیت په دی طریقه باندی درست دی اوکه نه؟ نویت ان اصلی لله تعالٰی رکعتی الجمعة فرض الله تعالٰی متوجهًا الی جهة الکعبة الشریفة الله اکبر.

جواب: دجُمعې دلمانځه نیت په ذکرسوی طریقه صحیح دی. فقط

دکور داحاطې په جومات کی جُمعه: **سوال:** (۲۴۳۴) دی طرف ته زیاتره خلګ دکور په احاطه کی یوځلور شپږ لاسه مربع ځای ددیوال یا برنډې، په نوم دالله ﷻ کور یا جومات بغیر دلحاظ دپابندی څخه جوړوی، دغه کور ضرورةً اخوا دیخوا ته لیری کیدی هم سی اوکله یی کیندل هم وکړي. غرض داچی په داسی عرفی جوماتونو کی چی کم دلوی څخه لوی جومات وو په هغه کی خلګو دجُمعې جماعت تیارکی، او واعظان خلګ راغلل هغوی هم ددغه خلګو سره جُمعه وکړه، اوکوی یی، په داسی حالت کی به عند الاحناف جُمعه کوونکی مصیب ګرځی اوکه خطاء کار؟

جواب: که چیری دغه علاقه په کمه کی چی کور اواحاطه مذکوره اوجومات مذکور واقع دی ښار یاولسوالی. وی په کمه کی چی عند الاحناف جُمعه واجبه او اداء کیږي، او د جُمعې دلمانځه په وخت کی داحاطی دروازه خلاصوی اواذن عام وی نودجُمعې دلمانځه په صحت کی څه شبهه اوتردد ([4]) نسته. فقط

دخطبی څخه مخکی وعظ درست دی: **سوال:** (۲۴۳۵) دکلی په جامع جومات کی دجُمعې

([1]). وکما یجوز اداء الجمعة فی المصر یجوز اداءها فی فناء المصر وهو الموضع المعد لمصالح المصر متصلا بالمصر (عالمګیری مصری باب الجمعة ج۱ ص ۱۳۵ ، ط. س. ج۲ ص ۱۴۵). ظفیر

([2]). هی (ای الجمعة) فرض عین یکفر جاحده لثبوتها بالدلیل القطعی (درمختار) وهو قوله تعالٰی یا ایها الذین اذا نودی للصلاة من یوم الجمعة فاسعوا الخ (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۷ ، ط.س. ج۲ ص ۱۳۲). ظفیر

([3]). ویشترط بصحتها سبعة اشیاء المصر الخ (ایضا ج۱ ص ۷۴۷ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۷). ظفیر

([4]). وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق (ردالمحتار باب الجمة ج۱ ص ۷۴۸) والسابع الاذن العام (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۷۱ ، ط. س. ج۲ ص ۱۳۸). ظفیر

دلمانځه څخه مخکی وعظ کول مکروه دی اوکه نه؟ اود: وان لایتحلق الناس یوم الجمعة قبل الصلوٰة فی المسجد، څه حکم دی؟

جواب: که چیری په وخت کی ګنجائش وی اوڅه ضرورت وی، نو دجُمعې دلمانځه څخه مخکی وعظ کول مکروه نه دی، اووددی حدیث شریف مطلب دادی، چی دجُمعې دلمانځه څخه مخکی دي لمونځ ګذار په جومات کی په حلقی جوړولو سره نه کښینی، اوچی کم وخت خطبه شروع سی هغه وخت دي خطبه واوری. فقط

چیری چی دشوافعو په نزد جُمعه جائز ده نو ایا حنفی دامام شافعی رحمه الله په مذهب باندی عمل کولی سی؟ سوال: (۲۴۳۶) دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد چی په کم کلی کی جُمعه جائزنه ده اودامام شافعی رحمه الله په نزد په هغه کلی کی جُمعه جائزده په کم کی چی څلویښت کسان وی لمونځ ګذاره، نوپه داسی کلی کی حنفیانو لره دامام شافعی رحمه الله په مذهب باندی عمل کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: حنفیانو لره په دی صورة کی دحضرت امام شافعی په مذهب باندی عمل کول جائزنه دی، ځکه چی احنافو (علماوو) په دی باندی تصریح فرمایلی ده، چی په کوچنی کلی کی دجُمعې اوداخترونو لمونځ جائز نه دی بلکه په درمختار اوشامی کی یی دقنیی څخه نقل کړی دی چی په کلی کی دجُمعې اوداخترونو لمونځ کول مکروه تحریمی دی ([1]). فقط

دجومات په دروازه کی خطبه ویل دسنتو څخه خلاف دی: سوال: (۲۴۳۷) که چیری خطیب دجومات په دروازه کی ودریږی اوخطبه وایی چی مقتدیان اوسامعین دامام شاه طرفته هم وی نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: داخلافِ سنت دی، حکم دادی چی دخطبی په وخت کی دي مقتدیان خطیب ته مخامخ وی ([2]). فقط

دښار په اطرافو کی کارکول دجُمعې دپریښوولو دپاره عذر نه دی: سوال: (۲۴۳۸) که چیری زمینداران وغیره دابادی څخه په میل یونیم میل په فاصله کی قلبه کوی او دڅاه څخه اوبه راکاږی اودجُمعې په لمانځه کی نه شریکیږی، اووایی چی دځنګل څخه ابادی ته په راتللو سره اودجُمعې په لمانځه کی په شریکیدلوسره زموږ کاربندیږی، نوداعذر دهغوی

([1]). صلاة العید فی القری تکره تحریمًا (درمختار) ومثله الجمعة (ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۵، ط. س. ج ۲ ص ۱۲۷). ظفیر

([2]). عن ابن عمر قال: کان النبي ﷺ یخطب خطبتین کان یجلس إذا صعد المنبر وعن عبد الله بن مسعود قال کان النبی ﷺ اذا استوی علی المنبر استقبلناه بوجوهنا رواه الترمذی (مشکوٰة باب الخطبة ص ۱۲۴). ظفیر

معتبردی اوکه نه؟

جواب: دجُمعې دپرېښوولو داعذر دښار داوسيدونکو زميندارو وغيره دپاره کم چې په همدغه ښار کې ياځنګل کې دزراعت په کار کې مشغول دی نه سی کيدی ([1]). فقط

چې په جامع جومات کې ګنجائش نه وي نو ايا په عيدګاه کې دجُمعې لمونځ کيدی سی؟

سوال: (٢۴٣٩) دلمونځ ګذارو دزياتوالی په وجه په جامع جومات کې دومره وسعت نسته چې دټولو لمونځ ګذارو دپاره کافی سی، نوپه داسی حالت کې که چيری په عيدګاه کې دجُمعې لمونځ وسی نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: په موجوده صورة کې په عيدګاه کې لمونځ درست دی اوداهم مسئله ده چې په يوه ښار کې په ډيرو جوماتونو کې جُمعه صحيح ده. ([2]) فقط

په يوه ښار کې په ډيرو جوماتونو کې جُمعه درسته ده: **سوال**: (٢۴۴٠) دښار په جامع جومات کې چې په کم وخت کې دجُمعې لمونځ کيږی نوپوره په همدغه وخت کې په نورو جوماتونو کې دجُمعې لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: دمفتٰی به مذهب موافق په نورو جوماتونو کې هم جُمعه په دغه وخت کې صحيح ([3]) ده. فقط

منبر دصف په مينځ کې ايښوول درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (٢۴۴١) دلته دلمونځ ګذارو دډيروالی اودجومات دتنګوالی په غرض اوداواز دليری رسيدلو په غرض منبر دقبلی دديوال څخه ديخوا ته ايښوول سوی دی، نوپه دی وجه سره بعض صفونه دخطيب شاته راسی. داجائز دی اوکه نه؟

جواب: سنت دادی چې دجُمعې په ورځ دي منبر دمحراب سره وی اوخطيب دي پر هغه باندی ودريږی اوخطبه دي ووايی اومقتديان دي هغه ته مخامخ وی، کمافی البدائع: من السنة ان يستقبل الناس بوجهه ويستدبر بالقبلة ([4]) انتهٰی نوخلکو ته داورولو دضرورت

([1]). بان وجوبها مختص باهل المصر والخارج عن هذا الحد ليس اهله. قلت: وهو ظاهر المتون وفی المعراج انه اصح ماقيل (ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٢٢ ، ط. س. ج٢ ص١٥٢). ظفير، والاصح وجوبها علی مکاتب ومبعض واجير ويسقط من الاجر بحسابه لو بعيداً والا لا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٢٣ ، ط. س. ج٢ ص١٥٢). ظفير

([2]). وتؤدی فی مصر واحد بمواضع کثيرة مطلقا علی المذهب وعليه الفتوٰی (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٧٥ ، ط. س. ج٢ ص١۴۴). ظفير

([3]). وتؤدی فی واحد بمواضع کثيرة مطلقا علی المذهب وعليه الفتوٰی (ايضا ط. س. ج٢ ص١۴۴). ظفير

([4]). وګوری بدائع الصنائع فصل فی الجمعة ج١ ص ٢٢٣، اذاجلس علی المنبر (درمختار) ومن السنة ان يخطب عليه اقتداء به ﷺ بحر، وان يکون علی يساره المحراب قهستانی (باب الجمعة ج١ ص ٧٧٠). ظفير

په وجه داسنت پرېښوول نه دی په کار، ځکه چې دټولو اوريدل ضروری نه دی، او د لمونځ ګذارو دډېروالی په وجه کی ټولو ته اورول مشکل دی. فقط

دمصر په تعریف کی اختلاف: سوال: (۲۴۴۲). مولوی عبد الشکور صاحب په خپله رساله علم الفقه کی فرمایی چی لاندی معروفه مقامات مصر دی.

۱. کم ځای چی دمصر دمقام څخه دومره لیری وی چی دهغه ځای څخه کم سړی دجُمعې دلمانځه کولو دپاره دمصر مقام ته ولاړسی، او دلمانځه کولو څخه وروسته په همدغه ورځ کی خپل کورته واپس راسی نودا مقام هم مصردی. از شرح سفر السعادت

۲. هغه مقام مصردی چی چیری مکلف مسلمانان کسان دومره اباد وی چی دهغه مقام په لوی جماعت کی ځائیدلی نه سی. از بحر الرائق. داتعریف صحیح دی اوکه نه؟

جواب: ۱. دادحنفیانو مفتٰی به مذهب نه دی، ګویا مؤلف بعض اقوال رانقل کړی دی چی داسی هم دبعضو قول دی اوشایدچی دسفر السعادة دصاحب په نزدهم داراجح وی لیکن دا داحنافو معتمد فیه مذهب نه دی کما یظهر من کتب الفقه

۲. دمصر داتعریف منقوض دی، کما صرح بی فی شرح المنیة. (۱) دلته مؤلف صاحب راجح مذهب پرېښی دی، اوبعض روایات یی اختیار کړی دی. فقط

دجُمعې دخطبی په وخت کی پیک وهل او سرتور سر کښېنستل څنګه دی؟ سوال: (۲۴۴۳) دجُمعې دخطبی په وخت کی پیك وهل اوسر تور سر کښې نستل درست دی اوکه نه؟

جواب: دا (فعل) ښه نه دی (۲). فقط

دمصر په فناء کی چی کم کلی وی په هغه کی جُمعه څنګه ده؟ سوال: (۲۴۴۲) دښار څخه په نیم میل فاصله کی یو کوچنی کلی واقع دی، او دښار اودکلی ترمینځ باغچه اونهر او

---

(۱). والفصل فی ذلك ان مكة والمدينة مصران تقام بهما الجمعة من زمنه ﷺ الی اليوم فكل موضع كان مثل احدهما فهو مصر (غنية المستملی ص ۵۱۱) مخ ته بعضو خلګوچی دلوی جومات سره دمصرکم تعریف کړیدی، دهغه ردکوی: فكل تفسير لا يصدق علی احدهما فهوغيرمعتبر حتی التعريف الذی اختاره جماعة من المتاخرين كصاحب المختار والوقاية وغيرهما وهو ما لو اجتمع اهله فی اكبر مساجده لا يسعهم فانه منقوض بهما اذ كل مسجد منهما يسع اهله وزيادة (ايضا) دمصر کم تعریف چی دهدایه مولانا صاحب؟ کړی دی دهغه په تصدیق کولو سره لیکی: والحد الصحيح ما اختار صاحب الهداية انه الذی له امير وقاض ينفذ الاحكام ويقيم الحدود ؒ (ايضا) اوپه تحفة الفقهاء کی یې دامام صاحب ؒ داتعریف نقل کړی دی: عن ابی حنيفة ؒ انه بلدة كبيرة فيها سكك واسواق ولها رساتيق وفيها وال يقدر علی انصاف المظلوم من الظالم بحشمته وعلمه اوعلم غيره يرجع الناس اليه فيما يقع من الحوادث هذا هو الاصح (ايضاً). ظفير

(۲). وكل ما حرم فی الصلاة حرم فيها ای فی الخطبة (خلاصه) وغيرها فيحرم اكل وشرب وكلام ولو تسبيحاً او رد سلام او امراً بمعروف بل يجب عليه ان يستمع عليه ويسكت بلا فرق بين قريب وبعيد (در مختار) ظاهره انه يكره الاشتغال بما يفوت السماع وان لم يكن كلاما (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۸ ، ط.س. ج۲ ص۱۵۹). ظ

دآسونو داستوگنی احاطه ده، په کوچنی کلی کی جُمعه جائزده اوکه نه؟ دمصر اودفناء دمصر صحیح تعریف څه دی، دآسونو داحاطی سره متعلق دکارگرو کورونه دی په دغه کورنو کی جومات دی، نوپه دغه جومات کی جُمعه جائز ده اوکه نه؟

جواب: دمصر په تعریف کی اختلاف دی، لیکن په ظاهره مدار پرعرف باندی دی، عرفًا چی کم ښار او ولسوالۍ وی اوابادی دهغه زیاته وی اوبازار اوکوڅی په هغه کی وی او ضرویات ټول پیداکیږی نوهغه ښار (١) دی، اودمصر فناء هغه ځای دی کم چی دښار سره متصل دښار دضروریاتو مثلا رکضِ خیل (آسونو ځغلولو) وغیره دپاره وی، (٢) دغه کوچنی کلی دکم چی ذکر په سوال کی سویدی، په هغه کی عند الحنفیة جُمعه صحیح نه ده اوداسونو دغه احاطه که چیری دښار سره متعلق وی اوفناء دمصروی نودهغه سره چی کم دکارگرانو کورونه دی هلته جُمعه صحیح ده. فقط

په خطبه کی دسلطان المعظم دنوم اخیستل درست دی: **سوال**: (٢٤٤٥) دجومات یوه امام دجُمعې په دوهمه خطبه کی دخلیفه نوم نه اخلی، زموږ سره ناحقه جګړه کوی، اووایی چی په دی وخت کی څوك خلیفه نسته، نوپه دی صورة کی چی شرعًا څه حکم وی دهغه څخه مو خبر کړی؟

جواب: دخلیفه المسلمین یعنی سلطان المعظم نوم په خطبه کی اخیستل په کاردی، او د هغه دپاره دنصرت اوفتحی دعاء کول په کاردی، داعین اسلامی خدمت دی، او دټولو اسلامی عساکرو دپاره دفتح اودنصرت دعاء کول پکار دی، اومسلمانانو لره حضرت سلطان المعظم خپل خلیفه گڼل ضروری دی، (٣) اودا ویل چی په دی وخت کی څوك خلیفه نسته، داغلطه ده، مسلمانانو ته داسی خبری کول اوداسلام څخه خلاف کارونه کول او دکافرانو اودنصاراوو سره اختلاط اوموالات ساتل حرام دی، اوترکِ موالات ضروری اولازمی او مذهبی فریضه ده (٤). فقط

---

(١). فی التحفة عن ابی حنیفة ﷺ ان انه بلدة کبیرة فیها سکك واسواق ولها رساتیق وفیها وال یقدر علی انصاف المظلوم من الظالم بحشمته وعلمه اوعلم غیره یرجع الناس الیه فیما یقع من الحوادث وهذا هو الاصح (رد المحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٤٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٧). ظفیر

(٢). اوفناءه وهو ماحوله اتصل به اولا، لاجل مصالحه کدفن الموتی ورکض الخیل (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٤٩ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٨). ظفیر

(٣). اما ما اعتید فی زماننا من الدعاء للسلاطین العثمانیة ایدهم الله تعالی کسلطان البرین والبحرین وخادم الحرمین الشریفین فلا مانع منه (رد المحتار باب الجمعة ج ١ ص ٧٢٠ ، ط. س. ج ٢ ص ١٥٠). ظفیر

(٤). دا دسنه ١٣٤٠ هـ ق خبره ده په هغه زمانه کی خلیفة المسلمین په ترکیه کی وو، اوس سنه ١٣٨١ هـ ق دی، اوس خلیفة المسلمین باقی پاته نسو، دسلطان عبدالحمید؄ څخه وروسته بیا دهغه پرځای څوك دخلیفة =

دجُمعې په لمانځه کې دخطبې حيثيت: **سوال**: (٢۴۴٦) دجُمعې په لمانځه کې خطبه فرض ده اوکه واجب ده اوکه سنت؟

دخطبې په غلطۍ سره په لمانځه کې نقصان نه راځي: **سوال**: (٢۴۴٧) اوپه خطبه کې په غلطۍ سره څوڅه نقصان خو به نه راځي؟

جواب: ١، ٢. په جُمعه کې خطبه فرض ده، اودخطبې په غلطۍ کيدلو سره ([1]) په لمانځه کې څه خلل نه راځي.

دجُمعې دفرضيت څخه منکر کافردي: **سوال**: (٢۴۴٨) زيد داوايي چې آيت کريمه دجُمعې ظني دی، نوپه دی وجه لمونځ فرض نه دی نو دجُمعې دلمانځه دفرضيت څخه پرمنکر باندی څه حکم دی؟

دجُمعې په فرضيت کې تاويل غلط دی: **سوال**: (٢\٢۴۴٩) زيد وايي چې په قرآن کريم کې ظن باقي دی، او دجُمعې دلمانځه څخه مراد په قرون اولی کې صرف دجهاد دپاره خلګ راجمع کول وو، نودا لمونځ فرض نه دی؟

جواب: ١. دجُمعې دفرضيت څخه منکر کافردی، او دجُمعې دفرضيت آيت قطعي دی او ظنيت يې په شرآئطو کې دی نه داچې دجُمعې په اصل لمانځه کې ([2]).

جواب: ٢. دزيد قول غلط دی، اومخکې وليکل سوه چې دجُمعې دفرضيت منکر کافر دی، البته جُمعه په امصارو اوقصباتو اوقريه کبيره کې فرض ده، اوپه کوچنی کليو کې فرض نه ده، اونه اداء کيږي. کما فصل فی کتب الفقه ([3]). فقط

په کمه قلعه کې چې دعامې داخلې اجازه نه وي په هغه کې جُمعه جائزده اوکه نه؟ سوال: (٢۴۵٠) په قلعه ميګزين کې جُمعه جائزده اوکه نه؟ که جائزوی نوپه کم دليل سره؟ دغه قلعه ته بغير ټکټه هيڅوك هم نسی ورتللی. دامام اعظم رحمه الله په نزد چې څه حکم وی په هغه مو خبر کړی او ددی ځای عالمان په عدم جواز باندی دی.

= المسلمين په حيثيت سره کښې نه نستی، ددی وجه زموږ په دی دورکی دچا دنوم داخيستلو ضرورت نسته، البته کله که يوڅوك خليفة المسلمين منتخب سی نودهغه نوم په خطبه کی اخيستل کيدی سی. والله اعلم. ظ

([1]). ويشترط لصحتها سبعة اشياء الاول المصر الخ والرابع الخطبة فيه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧۵٧ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٧). ظفير

([2]). هی فرض عين يکفر جاحدها لثبوتها بالدليل القطعی کما حققه الکمال وهی فرض مستقل اکد من الظهر وليست بدلا عنه (درمختار) قوله بالدليل القطعی وهو قوله تعالی: يا ايها الذين امنوا اذا نودی للصلاة من يوم الجمعة فاسعوا، الآية، وبالسنة وبالاجماع (ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧۴٧ ، ط.س. ج٢ ص١٣٢) . ظفير

([3]). وتقع فرضاً فی القصبات والقری الکبيرة التی فيها اسواق الی ان قال لا تجوز فی الصغيرة التی ليس فيها قاض ومنبر الی ان قال ولو صلوا فی القری لزمهم اداء الظهر (ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧۴٨ ، ط. س. ج ٢ ص ١٣٨). ظفير

جواب: اقول وبالله التوفيق. ددی مسئلی په باره کی ددرمختار اودرد المحتار روايت دادی: والسابع: الاذن العام من الامام، وهو يحصل بفتح أبواب الجامع للواردين، كافي. فلا يضر غلق باب القلعة لعدو أو لعادة قديمة، لان الاذن العام مقرر لاهله وغلقه لمنع العدو لا المصلي، نعم لو لم يغلق لكان أحسن كما في مجمع الانهر معزيا لشرح عيون المذاهب، قال: وهذا أولى مما في البحر والمنح، فليحفظ. فلو دخل أمير حصنا أو قصره وأغلق بابه وصلى بأصحابه لم تنعقد، ولو فتحه وأذن للناس بالدخول جاز وكره، الخ. (درمختار) قوله: (الاذن العام) أي أن يأذن للناس إذنا عاما بأن لا يمنع أحدا ممن تصح منه الجمعة عن دخول الموضع الذي تصلي فيه، وهذا مراد من فسر الاذن العام بالاشتهار (الى ان قال) واعلم أن هذا الشرط لم يذكر في ظاهر الرواية، ولذا لم يذكره في الهداية بل هو مذكور في النوادر، ومشى عليه في الكنز و الوقاية والنقاية والملتقى وكثير من المعتبرات. قوله: (وهذا أولى مما في البحر والمنح) ما في البحر والمنح هو ما فرعه في المتن بقوله: فلو دخل أمير حصنا أي أنه أولى من الجزم بعدم الانعقاد. قلت: وينبغي أن يكون محل النزاع ما إذا كانت لا تقام إلا في محل واحد، أما لو تعددت فلا، لانه لا يتحقق التفويت كما أفاده التعليل، تأمل. وقال قبيله وفي الكافي التعبير بالدار حيث قال: والاذن العام وهو أن تفتح أبواب الجامع ويؤذن للناس، حتى لو اجتمعت جماعة في الجامع وأغلقوا الابواب وجمعوا لم يجز، وكذا السلطان إذا أراد أن يصلي بحشمة فی داره: فإن فتح بابها وأذن للناس إذنا عاما جازت صلاته شهدتها العامة أو لا، وإن لم يفتح أبواب الدار وأغلق الابواب وأجلس البوابين ليمنعوا عن الدخول لم تجز، لان اشتراط السلطان للتحرز عن تفويتها على الناس وذا لا يحصل إلا بالاذن العام اهـ قلت: وينبغي أن يكون محل النزاع ما إذا كانت لا تقام إلا في محل واحد، الخ (1) شامی.

نوذکر سوی روايت څخه دبصيرت خاوند ته دومره خبره معلوميدی سی چی که چيری دقلعه دروازه دعادت مستمره په سبب بنده اوسی اوپه قلعه کی دننه اوسيدونکو ته دجُمعې دشرکت اجازه وی نوپه قلعه کی دننه جُمعه صحيح ده، خصوصًا کله چی علت دعدم جواز دجُمعې فی الحصن کم چی تفويت جُمعه دقلعه څخه ددباندی والاوو دپاره دي نه پيداکيږی ولی چی دقلعی څخه دباندی په ښارکی په ډيروځايونوکی جُمعه کيږی، کماصرح فی السوال السابق، اودمفتیٰ بها روايت مطابق په يوښار کی په ډيرو ځايونو کی جُمعه درست ده، کما فی الدر المختار وغيره: (2) وتؤدی فی مصر واحد بمواضع

(1). الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۱ ص ۷۲۱ – ۷۲۲ ، باب الجمعة، ط. س. ج۲ ص ۱۵۲. ظفير
(2). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۵۵ ، ط. س. ج۲ ص۱۴۴. ظفير

كثيرة مطلقا على المذهب وعليه الفتوٰى، نوكله چې علت دعدم جواز په صورة موجوده مذكوره كې موجودنه دى، او دجُمعې دجواز په حكم كولو كې په قلعه كې دننه كار كوونكو ته هم دجُمعې لمونځ اودجُمعې فضيلت حاصليدى سى اوپه دى كې يسر او سهولت هم دى اودامطلوب فى الدين دى، كماقال الله تعالٰى يريد الله بكم اليسر ولايريد بكم العسر (١) وفى الحديث: الدين يسر (٢) اوكما قال ﷺ، نوكه چيرى ددرمختار اود شامى دتصريح مطابق په ذكرسوى قلعه كې دجُمعې دجواز فتوٰى وركول سى، نوپه دى كې څه حرج نسته، اوداذن عام دشرط ګرځولو روايات ددى منافى نه دى، ولى چې دذكرسوى شرط وجه همداده چې خلك دې دجُمعې څخه بندنه سى اودهغوى جُمعه فوت نسى، نو كله چې داوجه موجوده نه وى نوبيا دجُمعې په صحت كې څه تردد كيدى سى اوددى جزيى څخه چې (فلو دخل امير حصنا اوقصره الخ) څخه هم صفا معلوميږى چې وجه دعدم جواز تفويت جُمعه عن الناس ده، ځكه چې اقامت په موجودګى داميركى ظاهره ده چې ماسوا دامير څخه به يې بل هيڅوك ونه كړى، اوكله چې هغه دروازه بنده كړى اودباندى دراتلونكو دپاره اجازه نه وى دشركت، نوپه دى صورة كې به ددباندى والاوو جُمعه بالكل فوت سى، وهوالمانع عن الجواز، اوكله چې داخوف باقى نه وى اوتفويت جُمعه عن الناس په قلعه كې دجُمعې دلمونځ كولو په صورة كې متصور نه دى، نوبيا دعلامه شامى دتصريح موافق په قلعه كې دجُمعې په جواز كې څه تردد نه سى كيدلى. قلت وينبغى ان يكون محل النزاع ما اذا كانت لا تقام الا فى محل واحد ، اما لو تعددت فلا، لانه لا يتحقق التفويت كما افاده التعليل تامل، ج۲ ص۱۵۲. (۳)

قوله: لم تنعقد يحمل على ما اذا منع الناس فلا يضر اغلاقه لمنع عدو اولعادة كمامر، قلت ويؤيده قول الكافى واجلس البوابين الخ فتامل اوپه دى كې چونكې دغور او دفكر او ددقت دنظر ضرورت وو، ددى دپاره يې دتامل امر وكى، اوحنفى فقهاء داهم تصريح فرمايي چې قوت ددليل، قوى مرجح دى، سره ددى ټولو خبرو (بيا هم) دروازه نه بندول احسن دى، اواحوط دى، كمامر عن الدر المختار: نعم لولم يغلق لكان احسن الخ لكونه ابعد عن الخلاف، ليكن كلام دجُمعې په جواز كې نسته كم چې مطابق درواياتو مذكوره وو او دتعليل مذكور ثابت دى (۴). فقط

---

(۱). سورة البقرة ركوع ۲۳. ظفير

(۲). بخاري. باب الدين يسر ج ۱ ص ...... ظفير

(۳). وګورى ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۲۲ ، ط. س. ج۲ ص۱۵۲. ظفير

(۴). درى كاله وسول چې دكلكتې څخه هم دغه شان يوسوال راغلى وو اوپوښتنه يې كړى وه چې په كارخانو =

دا ویل غلط دی چی صحابه کرامو ﷺ دجُمعې دلمانځه څخه بندول کړی دي: **سوال:** (۲۴۵۱) یوځو کسان دجهالت په وجه داخبره کوی چی دجُمعې لمونځ صرف رسول الله ﷺ کړی دی دهغوی ﷺ صحابه وو کرامو ﷺ نه دی کړی بلکې صحابه وو کرامو ﷺ ددی لمانځه څخه خلگ منع کړیدی، په داسی ویونکو باندی شرعاً څه حکم دی؟

جواب: ددغه خلگو داخبره غلطه ده، دجُمعې لمونځ رسول الله ﷺ هم کړی دی اوصحابه وو کرامو ﷺ هم کړیدی، اودجُمعې دلمانځه فرضیت په مسلمانانو باندی په نص قطعی سره ثابت دی اودجُمعې دلمانځه شرائط دفقهی په کتابونو کی مذکوردی. فقط.

داعلاء کلمة الله دپاره په جیل کی جُمعه: **سوال:** (۲۴۵۲) دمذهب اواعلاء کلمة الله په وجهی سره خالص دالله ﷻ دپاره دمسلمان قید کیدل په جهاد کی داخل دی اوکه نه؟ اوآیا دجُمعې لمونځ به په جیل کی هم فرض وی؟ که چیری نه وی نودجُمعې دلمونځ کولو سره به دماپښین لمونځ ساقط سی اوکه نه؟

جواب: داعلاء کلمة الله دپاره کوشش کول اوپه هغه باندی قید کیدل په ثواب کی داخل دی، اوداسلامی خلافت دپاره کوشش کول یوقسم جهاد دی، اوپه قیدی اوبندی باندی جُمعه فرض نه ده، لیکن که چیری په جُمعه کی دشریکیدلو موقعه پیدا سوه نودماپښین لمونځ دهغه دذمی څخه ساقط کیږی. اودجُمعې دفرضیت دپاره اودجُمعې په شرائطو کی دی: عاقل اوبالغ کیدل اوتندرست اوازاد کیدل اوپه قید کی نه کیدل وغیره، نوکه یو سړی بندی وی اودجُمعې څخه منع کیږی نوپر هغه باندی جُمعه فرض نه ده [1]. فقط

دجُمعې دلمانځه څخه وروسته دعاء مختصره وغوښتل سی اوکه اوږده؟ **سوال:** (۲۴۵۳) امام لره دجُمعې دلمانځه څخه وروسته دعاء مختصر غوښتل په کاردی اوکه نه اوږده ؟

جواب: زیات اوږدوالی ورکول نه دی په کار. [2] فقط

= کی دننه چیری چی اذن عام نسته، جمعه جائزده اوکه نه؟ بعض علماء ورته ناجائز وایی، حالانکه دمودی را هیسی موږ جمعه کوو، بیایې په کارخانه کی دجمعی په سلسله کی خپله مجبوری لیکلی وه چی ددی څخه بغیر چاره کاره نسته، خاکسار دجواز فتوٰی ورکړی وه، دلته په دار الافتاء کی نورو خلگوته تذبذب وو، او دهغوی رجحان ښکاره دناجائزوالی طرف ته وو، لیکن مادددلائلو په همدی اندازی سره جواز ثابت کړی وو، اودبحث اودتمحیص څخه وروسته صدر مفتی صاحب هم ددی تصویب کړی وو، الحمد لله چی نن دهغه تصویب دحضرت مفتی العلام څخه هم میسر سو. ظفیر

(۱). وشرط لافتراضها تسعة تختص بها اقامة بمصر ؒ وصحة ؒ وحرية ؒ وذكورة ؒ ووجود بصر ؒ وعدم حبس ؒ ان اختار العزيمة وصلاها وهو مكلف بالغ عاقل وقعت فرضا عن الوقت (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۲۲ - ۷۲۳ ، ط. س. ج۲ ص۱۵۳). ظفیر

(۲). ويكره تاخير السنة الا بقدر اللهم انت السلام الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلاة ج۱ ص۴۹۴ ، ط. س. ج۲ ص۵۳۰). ظفیر

په جُمعه کی دنابینا امامت: **سوال**: (۲۴۵۴) په نابینا پسی جُمعه صحیح ده اوکه نه؟ او چونکی په هغه باندی جُمعه فرض نه ده نو دهغه امامت درست دی اوکه نه؟

جواب: په نابینا پسی جُمعه صحیح ده، په هدایه کی دی: لا تجب الجمعة علی المسافر ولا اعمٰی فان حضروا فصلوا مع الناس اجزاهم عن فرض الوقت ویجوز للمسافر ان یؤم فی الجمعة (۱). فقط

چی په لویه آبادی کی مسلمانان لږ هم وی نوجُمعه پکښی جائز ده: **سوال**: (۲۴۵۵) چیری چی مورخلګ اوسیږو، ددی ملك نوم (بسوتهولینډ) دی اوددی ملك اوسیدونکی کرستهان دی مسلمانان صرف شپیته کسان دی اوپه ځنګل کی یی یوجومات جوړکړی دی نودلته دجُمعې اوداخترونو لمونځ درست دی اوکه نه؟ په جُمعه کی لس دولس کسان دی؟

جواب: کله چی دغه علاقه لویه ده اوپه منزله دښار یاولسوالۍ ده، که څه هم ابادی دمسلمانانو نه وی خوهلته دجُمعې اوداخترونو لمونځ صحیح دی اوفرض دی، او اداء کیږی، که څه هم دجُمعې وغیره په جماعت کی لس دولس کسان وی په دی کی څه حرج نسته. دحضرت امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد که چیری دجُمعې په لمانځه کی دامام څخه ماسواء دری کسان هم وی نوجُمعه کیږی البته داضروری ده چی دغه ځای چیری چی جُمعه وغیره کوی لویه علاقه دي وی یا دي دهغه په متعلقاتو کی وی ولی چی دلویی علاقی په ځنګل کی هم دجُمعې او داخترونو لمونځ صحیح دی (۲). فقط

دیو ریاست درئیس دپاره دجُمعې په خطبه کی دعاء درسته نه ده: **سوال**: (۲۴۵۶) دیو ریاست رئیس کم چی دروژی اودلمانځه اودشریعت داحکامو پابینده نه وی هغه دجُمعې په ورځ دخلیفة المسلمین دنوم پرځای (په خطبه کی په خطیب باندی) خپل نوم اخلی نو دا جائز دی اوکه نه؟

جواب: په خطبه کی دسلطان اسلام او دخلیفة المسلمین دپاره دعا کول فقهاوو لیکلی دی اودا طریقه کمه چی په سوال کی درج ده چی درئیس دپاره دعاء کول، جائز نه (۳) ده، باقی لمونځ صحیح کیږی اوخطبه هم صحیح کیږی. فقط

په کارخانه کی دننه چیری چی عامه اجازه نسته جُمعه جائز ده: **سوال**: (۲۴۵۷) دریل یوه

(۱). هدایه باب الجمعة ج۱ ص۱۵۲. ظفیر

(۲). وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ (رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ ، ط. س. ج ۲ ص ۱۳۸). ظفیر

(۳). ویندب ذکر الخلفاء الراشدین والعمین لا الدعاء لالسلطان وجوزه القهستانی ویکره تحریمًا وصفه بمالیس فیه (درمختار) قوله وجوزه القهستانی الخ وعبارته ثم یدعو لسلطان الزمان بالعدل والاحسان الخ (رد المحتار باب الجمعة ج ۱ ص ۷۵۹ ، ط. س. ج۲ ص۱۴۹). ظفیر

کارخانه دهوړه په علاقه (شاوخوا دهوړه) کی، دهوړه څخه دوه میله لیری ده تقریبا ۸۰، ۹۰ زره خلگ کار پکښی کوی هلته هیڅ جومات نسته، البته دلمانځه دپاره هرسړی چیری چی غواړی پنځه وخته لمونځ اداء کوی، لیکن دجُمعې لمونځ په یوکثیر جماعت سره کم ځای چی یوخالی میدان پیداکی هلته وسی، دکارخانی دحکامو دطرف څخه منع کول اوبندول نسته، بلکی درخواست ورکول سوی دی اواذن حاصل سوی دی، په داسی مقام کی جُمعه جائزده اوکه نه؟ زید وایی چی جائز نه ده، ځکه چی اذن عام نسته، بلکی کارخانی والاوو ته اجازه ده، کارخانی والاوو لره صرف دماپښین لمونځ کول پکار دی ولی چی سهار داوو بجو څخه ترڅلور نیمو بجو پوری دکار وخت وی نوپه دی صورة کی دماپښین لمونځ هلته اداء کیږی اوکه نه؟ او دجُمعې دلمانځه څه حکم دی؟

جواب: هلته جُمعه درسته ده اوکارخانی والاوو ته اذن عام کیدل کافی دی، اودکار خانی والاوو جماعت هلته جمعه کولی سی ([1]). او دپنځه وخته لمانځه دپاره دحاکم داذن خو څه ضرورت نسته، لهذا دماپښین لمونځ په دغه ځای کی دهر سړی اداء کیږی. فقط

په فسادی امام پسی جُمعه: **سوال**: (۲۴۵۸) یوامام دمسجد دمطلقه ثلاثه (ښځی) نکاح دمطلِّق (طلاق ورکوونکی) سره بی دحلالی څخه وکړه او وایی چی دازما په نزد واحده رجعیه ده، دهغه دپوهولو دپاره ورته شرح وقایه وښوول سوه نوهغه شرح وقایه دجومات په صحن کی وغورځوله اوپه خطبه کی اخباری تقریرونه وایی، نوپه بل جومات کی بیله جُمعه کول جائزدی اوکه نه؟ بعض خلگ یی په هم هغه اولنی امام پسی کول غواړی؟

جواب: جلا جُمعه کول هم جائز اودرست دی، اوکه په اول جومات کی یی په مخکنی امام پسی وکړی نوداهم درست دی غرض داچی که چیری لمونځ وکړی، په هرډول سره درسته ده، اوکه چیری داولنی امام په لیری کولوکی څه فتنه نه وی اوهغه په صفاتوگه سره توبه نه کاږی، نوهغه دی لیری سی اوبل امام دي مقرر سی ([2]). فقط

که چیری امیر یوه ابادی مصر جوړ کړی نوهلته جُمعه درسته ده: **سوال**: (۲۴۵۹) رَبَذَه یو کلی وو که ښِنگه؟ دلته دحضرت ابوذر غفاری ﷺ دجُمعې لمونځ کول دخلیفه ثالث او داکثروجلیل القدرصحابه ؓ په هغه باندی نکیریعنی انکارنه فرمایل ثابت دی اوکه نه؟

([1]). قلت وینبغی ان یکون محل النزاع ما اذا کانت لا تقام الا فی محل واحد اما لو تعددت فلا. لانه لا یتحقق التفویت کما افاده التعلیل (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۲). ظفیر

([2]). قال اصحابنا لا ینبغی ان یقتدی بالفاسق الا فی الجمعة لانه فی غیرها یجد اما ما غیره اهـ قال فی الفتح وعلیه فیکره فی الجمعة اذا تعددت اقامتها فی المصر علی قول محمد المفتی به لانه بسبیل الی التحول (رد المحتار باب الامامة ج۱ ص۵۲۳ ، ط. س. ج ۲ ص ۵۲۰). ظفیر

جواب: دربَذی په متعلق دمنیه په شرح کی منقول دی: وعن محمد ان كل موضع مصره الامام فهو مصر حتى لو انه بعث الى قرية نائباً لاقامة الحدود والقصاص تصير مصراً فاذا عزله تلحق بالقرى ووجه ذلك ما صح انه كان لعثمان عبد اسود امير على الربذة يصلى خلفه ابوذر وعشرة من الصحابة الجمة وغيرها ذكره ابن حزم فى المحلى (۱).

دجُمعې په ورځ هم دزوال په وخت کی لمونځ درست نه دی: **سوال**: (۲۴۲۰) بعض خلګ دجُمعې په ورځ عینې دغرمی په وخت کی داذان څخه مخکی دوه رکعاته تحیة الوضوء کوی او وایی چی دجُمعې په ورځ دغرمی په وخت کی دادوه رکعاته مکروه نه دی، نودا صحیح دی اوکه نه؟

جواب: صحیح داده چی دزوال په وخت کی هیڅ یولمونځ درست نه دی ټول فرض او واجب، سنت اونفل په دغه وخت کی مکروه تحریمی دی البته دامام ابویوسف رحمه الله څخه دامام شافعی رحمه الله په شان دجواز روایت سته، لیکن ظاهره ده چی په داسی ځایونو کی حرمت لره ترجیح وی، لان المحرم مقدم على المبيح (۲)، فقط

دجُمعې او داخترونو دخطبی په شروع کی بسم الله په جهر سره ویل نه دی په کار: **سوال**: (۲۴۲۱) دجُمعې یا داختر دخطبی په شروع کی بسم الله په لوړ اواز سره ویل څنګه دی؟

جواب: دهیڅ خطبی څخه مخکی دي بسم الله په جهر سره نه وایی، بلکی کرار دی وایی، عند الحنيفة همدا سنت طریقه ده اوجهر کول خلاف سنت دی (۳). فقط

دجُمعې او داخترونو په خطبه کی دمصطفٰی کمال اودامیر امان الله دپاره دعاء کول درست دی که نه؟ **سوال**: (۲۴۲۲) دجُمعې یا داختر په خطبه کی دکابل (افغانستان) دباچا او دکمال پاشا اونورو نوم اخیستل اودعا ورته کول څنګه دی؟

جواب: په خطبه کی دسلطان المعظم او دمصطفٰی کمال بادشا او دامیر امان الله خان صاحب دپاره دعائیه کلمات ویل اونوم اخیستل درست اومستحب دی (۴). فقط

---

(۱). غنية المستملى بحث شروط جمعه ص ۵۱۲. ظفير

(۲). وكره تحريماً // صلاة مطلقا ولو قضاء او واجبة او نفلا // مع شروق // واستواء الا يوم الجمعة على قول الثانى المصحح المعتمد كذا فى الاشباه ونقل الحلبى عن الحاوى انه عليه الفتوٰى (درمختار) لكن لم يعول عليه فى شرح المنية والامداد على ان هذا ليس من المواضع التى حمل فيها المطلق على المقيد كما يعلم من كتب الاصول وايضاً فان حديث النهى صحيح رواه مسلم وغيره فيقدم بصحة واتفاق الائمة على العمل به وكونه حاظرا ولذا منع علماءنا عن سنة الوضوء وتحية المسجد وركعتى الطواف ونحو ذلك فان الحاظر مقدم على المبيح (ردالمحتار كتاب الصلوة ج۱ ص۳۴۳ – ۳۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۷۰). ظفير

(۳). فيبدأ بالتعوذ سرا (درمختار) اى قبل الخطبة الاولى بالتعوذ سراثم بحمدالله تعالى (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۵۹ ، ط. س. ج۲ ص۱۴۹). ظفير

دمصر دفناء ښخه دباندی جُمعه درسته نه ده: **سوال:** (۲۴۲۳) یوه ابادی دسیوهاره ولسوالۍ ښخه پاوو باندی سل قدمه مخکی ده اوعیدګاه ددی ولسوالۍ دوچنده ددغی ابادی ښخه مخکی ده لیکن چوکیداران اوچوکیداری یې بیله ده، په دی ابادی کی جُمعه جائز ده اوکه نه؟

جواب: کله چی هغه ځانته کلی شمارل کیږی اونوم یې هم جلادی اوچوکیدار وغیره دهغه بیل دی، نوهغه به دمصر په فناء کی نه شمارل کیږی اوجُمعه دلته صحیح نه ده. ([1]) فقط

دجُمعې داذان ښخه مخکی دالصلوة والسلام چیغی وهل درست نه دی: **سوال:** (۲۴۲۴) دجُمعې داذان ښخه مخکی په غوړونو کی په لاسونو ایښوولو سره الصلاة والسلام علیك یارسول الله، الصلوٰة والسلام علیك یا ادم صفی الله، په لوړ اواز سره ویل ضروری ویل اوګڼل یې ښنګه دی؟

جواب: ددی په شریعت کی ښه اصل نسته، نو ددی التزام کول اوضروری یې ګڼل دفقهی دقواعدو مطابق ناجائز دی ([2]).

دجُمعې په دوهم اذان کی په حی الفلاح کی پوره بدن دشمال طرف ته ګرځول ثابت نه دی:

سوال: (۲۴۲۵) دجُمعې ددوهم اذان په وخت کی کله چی حی علی الصلوٰة وایی نوچپه پښه مخ ته راوړل، اوټول بدن دشمال طرف ته ګرځول، همدغه شان دحی علی الفلاح په وخت کی کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: ددی ښه ثبوت په احادیثو اوپه فقه کی نسته. ([3]) فقط

ایاپه جُمعه کی صرف پرمنبر باندی خطبه ضروری ده: **سوال:** (۲۴۲۶) دازدحام او درَشْ په وجه که چیری دجُمعې خطبه پراصل منبر باندی ونه ویل سی، بلکی دلرګی په منبر باندی یا پرمکبره (داذان کولو پرلوړ ځای) باندی امام دجُمعې او داخترونو خطبه وایی نو جائز

([4]). ویندب ذکر الخلفاء الراشدین والعمین لا الدعاء لالسلطان وجوزه القهستانی ویکره تحریماً وصفه بمالیس فیه (درمختار) قوله وجوزه القهستانی الخ وعبارته ثم یدعو لسلطان الزمان بالعدل والاحسان متجنبا فی مدحه عما قالو الخ (رد المحتار باب الجمعة ج ۱ ص ۷۵۹ ، ط. س. ج۲ ص۱۴۹). ظفیر

([1]). لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر الخ ولو صلوا فی القری لزمهم اداء الظهر (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۳۸). ظفیر

([2]). قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا مالیس منه فهورد (مشکوٰة باب الاعتصام ص ۲۷) . ظفیر

([3]). لهذا ددی رواج ښخه بچ کیدل ضروری دی، په اذان کی مخ دقبلی طرف ته کیدل په کاردی. ویستقبل بهما (ای الاذان والاقامة) القبلة ولوترك الاستقبال جازویکره واذا انتهی الی الصلاة والفلاح حول وجهه یمینا وشمالا وقدماه مکانهما (عالمګیری کشوری باب الاذان ج۱ ص۵۴) ددی جزئیی ښخه معلومه سوه چی دپښی دلوړولو سره ویل اوګرځیدل دسنتو خلاف دی. ظفیر

بلا کراهت دی اوکه نه؟

جواب: په شامي کي ددرمختار ددې قول، واذا جلس على المنبر ؒ په شرحه کي ليکلي دي، ومن السنة ان يخطب عليه اقتداءً به ﷺ بحر، وان يكون على يسار المحراب الخ. (۱) ددې څخه معلومه سوه چي سنت هم دادی چي کم منبر عادة دمحراب چپه طرف ته وي هم په هغه کي دي ودرېږي اوخطبه دې وايي، که چيري پرمکبره وغيره باندي ووايي نو خلاف سنت به وي او دډيري رعايت ترکمه پوري کيدی سی ځکه چي دټولو اورول ګران دي. فقط

دجُمعې دوهم اذان ثابت دی: **سوال**: (۲۴۲۷) کم دوهم اذان چي دخطبې په وخت کي خطيب ته مخامخ کيږي نو دحضور ﷺ اودخلفاء راشدينو ﷺ په زمانه کي همدا طريقه وه اوکه څنګه؟

جواب: همدغه رکم به ويل کيدل، ويؤذن ثانيا بين يديه (درمختار) اى على سبيل السنة، شامي، (۲) نودلفظ دعلى سبيل السنة څخه معلوميږي چي دا طريقه دسنت موافق ده، او دخلفاء راشدينو په زمانه کي به همدغه شان کيدل. فقط

دجُمعې په لمانځه کي دښځو ګډون مکروه دی: **سوال**: (۲۴۲۸) ښځي دښار په جامع جومات کي دپردې سره دجُمعې لمونځ اداء کولی سی اوکه نه؟ او دجُمعې په بهانه وعظ اونصيحت هم اوري.

جواب: دښځو دپاره داحتياط اودپردې زيات ضرورت دی، اودنفعې حاصلولو څخه ضرر دفع کول مقدم دي، هم ددې وجه فقهاوو دښځو په جماعت اوجُمعه اواخترونو اودوعظ په مجلسونو کي شامليدلوته مکروه فرمايلي دي، په درمختار کي دي، ويکره حضورهن الجماعة ولولجمعة وعيد ووعظ مطلقا ولو عجوزاً على المذهب (۳) المفتى به لفساد الزمان الخ. فقط

ديوه سلام ګرځيدلو څخه وروسته په جُمعه کي شرکت درست نه دی: **سوال**: (۲۴۲۹) دامام ديوه سلام ګرځولو څخه وروسته دجُمعې په لمونځ کي په شريکيدلو سره به جُمعه اداء سی اوکه نه ؟

جواب: دجُمعې لمونځ به يې صحيح نه سی دغه سړی دي دماپښين لمونځ وکړی. (۴) فقط

---

(۱). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۷۰ ، ط. س. ج۲ ص۱۲۱). ظفير

(۲). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۷۰ ، ط. س. ج۲ ص۱۲۱). ظفير

(۳). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۵۲۹ ، ط. س. ج۲ ص ۵۲۲. ظفير

(۴). وتنقطع التحريمة بتسليمة واحدة برهان وقدمر (درمختار) اى في الواجبات حيث قال وتنقضى قدوة =

دخطبې په وخت کې هيڅ نفل او سنت لمونځ کول نه دي پکار : **سوال** : (۲۴۷۰) که چيرې د امام دخطبې ويلوپه وخت کې څوك راسي نو دخطيب هغه ته ويل چې دوه رکعاته وکړه، داجائز دي اوکه نه؟

خطيب چې منبرته راورسيږي نو خلکو ته دکښې نستلو وينا کولې سي؟ سوال: (۲۴۷۱) خطيب که دخطبې شروع کولو څخه مخکې دمنبر څخه خلګو ته ووايي چې مخکې صف ته راسي، داجائز دي اوکه نه؟

جواب: ۱. دخطبې په وخت کې هيڅ لمونځ کول نه دي پکار، اونه دي خطيب چاته ددوو رکعاتونو لمونځ حکم کوي، اذا خرج الامام فلا صلوٰۃ ولا کلام، يعنې څه وخت چې امام دخطبې ويلو دپاره ولاړيږي اوپه منبر باندې کښيني نو ددغه وخت څخه لمونځ اوکلام ټول ممنوع دي ([1]).

۲. په دې کې څه حرج نسته، کذا فی الشامی ([2]). فقط

دمنبر پرکمه ځينه چې غواړي خطبه خطيب ورکولې سي: **سوال**: (۲۴۷۲) خطيب به دمنبر پرکمه ځينه باندې خطبه وايي، په يو (خاص) درجه باندې په دريدلوکې دچابې ادبي سته اوکه نه؟

جواب: په دې کې شرعًا څه تحرير نسته چې پرهره درجه (يعنې ځينه) باندې ودريږي جائز دي اودصعود علی المنبر سنت به اداء سي، په شامی کې دي: ومن السنة ان يخطب عليه اقتداءاً به صلی الله عليه وسلم الخ وبحث بعضهم ان ما اعتيد الآن من النزول فی الخطبة الثانية الی درجة مصلی ثم العود بدعة قبيحة شنيعة الخ، ([3]) نوددې څخه زيات په دې کې څه قيد شرعًا نسته، پردوهمه يادريمه درجې باندې چې ودريږي درست دي، اوپه دې کې څه بې ادبي دچا نسته. فقط

دکمپنې کارګران دکارخانې په يوه کمره کې په جمع کيدلو سره جُمعه کولې سي: **سوال**: (۲۴۷۳) موږ خلګ دکارخانې کمپنې کارګران دکارخانې په يوه کمره کې لمونځ اداکوو،

= بالاول قبل عليکم علی المشهود عندنا خلافا للتکملة اهـ فلا يصح الاقتداء به بعدها لانقضاء حکم الصلاة (ردالمحتار باب صفة لا صلاة بعد الفصل ج۱ ص ۴۹۰ ، ط. س. ج۲ ص **۵۲۵**). ظفير الصديقی

([1]). اذا خرج الامام من الحجرة ان کان، والا فقيامه للصعود فلا صلاة ولا کلام الی اتمامها (درمختار) قوله فلا صلاة شمل السنة وتحية المسجد، بحر (ردالمحتار باب الجمعه ج۱ ص ۷۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۸). ظفير

([2]). وکل ما حرم فی الصلاة حرم فی الخطبة ؒ فيحرم اکل وشرب وکلام ولو تسبيحا او رد سلام اوامرا بمعروف (درمختار) الا اذا کان من الخطيب کما قدمه الشارح (ردالمحتار الجمعة ج۱ ص۷۲۸) ويکره تکلمه فيها الا لامر بمعروف لانمه منها. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۵۹، ط. س. ج۲ ص۱۵۹). ظفير

([3]). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۷۰ ، ط. س. ج ۲ ص ۱۲۱. ظفير

چونکی جامع جومات تقریبًا دیوه میل په فاصله کی دی، اوموږ خلگ دنوکری په وجهی سره هلته نه سو تللی، لهذا په دغه کمره کی دجُمعې لمونځ کولی سو اوکه نه؟

دجُمعې دپاره جومات شرط نه دی: **سوال:** (۲۴۷۴) دجُمعې دلمانځه دپاره جومات شرط دی اوکه نه؟ اودغه کمره دجومات په حکم کی ده اوکه نه؟

جواب: ۱، ۲: دغه کمره دجومات حکم نه لری، اوهغه شرعی جومات نه دی، لیکن جُمعه او جماعت په هغه کی درست دی، ځکه چی جومات کیدل دجُمعې او دجماعت دپاره شرط نه دی ([1]).

په جُمعه کی ددوهم اذان ثبوت: **سوال:** (۲۴۷۵) دوهم اذان کم چی دجُمعې په ورځ خطیب ته مخامخ کیږی ددی څه سند دی، دابوداود شریف څخه ثابت دی چی دحضور ﷺ په زمانه کی به دا اذان دجومات په دروازی باندی کیدی؟

جواب: په هدایه کی دی: واذا صعد الامام المنبر جلس واذن المؤذن بين يدى المنبر بذلك جرى التوارث ([2]) وعن السائب بن يزيد قال: كان النداء يوم الجمعة أوله إذا جلس الإمام على المنبر على عهد رسول الله ﷺ وأبي بكر وعمر فلما كان عثمان وكثر الناس زاد النداء الثالث على الزوراء. رواه البخاري ([3]).

او دجومات په دروازه کی دکیدلو څخه مراد دروازی ته نژدی هم کیدی سی، کم چی په جومات کی دکیدلو اودمنبر مخ ته دکیدلو منافی نه دی، وتحققه فی المطولات. فقط

دجُمعې دواجبوالی باوجود جُمعه پریښوول حرام دی: **سوال:** (۲۴۴۲) په کم ښار کی چی اتیازره (۸۰۰۰۰) خلگ اوسیږی، اوڅلور پنځه بازارونه موجودوی، ضروری شیان پیدا کیږی، که چیری هلته څوك قصدًا جُمعه ترك کړی نوهغه به فاسق وی اوکه نه؟

جواب: که چیری دغه علاقه داسی وی چی پکښی اتیا زره (۸۰۰۰۰) بنی آدم اباددی نوظاهره ده چی دایو لوی ښاردی، ځکه چی دومره ابادی په لویو لویو ښارونو کی وی، نودلته دجُمعې په فرض والی کی هیڅ تردد نسته، اودغه دجُمعې پریښوول حرام دی، لهذا په دغه ځای کی جُمعه پریښوونکی به فاسق وی ([4]). فقط

([1]). ویشترط لصحتها سبعة اشیاء الاول المصر الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۷ ، ط. س. ج۲ ص ۱۳۷). په دی کی یې جومات په شرائطوکی نه دی شمار کړی. والله اعلم، ظفير

([2]). هدایه باب الجمعة جمعة ج۱ ص۱۵۴. ظفير

([3]). وګوری حاشیه دهدایه باب الجمعة ج۱ ص۱۵۴، مولانا عبد الحی صاحب لکهنوی رحمه الله لیکی: وفی رواية البخاری، النداء الثانی وزاد ابن ماجة على دار فی السوق يقال له الزوراء وسميت ثالثا لان الاقامة تسمى اذا ناله. فتح القدير (ايضا). ظفير

دجُمعې فرض اوسنت لمونځونه: **سوال**: (۲۴۷۷) دجُمعې دلمانځه سره دفرضو اودسنتو څومره رکعاتونه دی، اودجُمعې څخه وروسته څلور (رکعاته) فرض سته اوکه نه؟

جواب: دجُمعې دلمانځه کیفیت په دی شان دی، چې اول څلور رکعاته سنت، بیا دجُمعې دوه رکعاته فرض دامام سره، اوبیا دي څلور رکعاته سنت دجُمعې څخه وروسته وکی، اوکه دڅلورو رکعتونو سنتو څخه وروسته دوه رکعاته وکړی یعنی ټول شپږ رکعاته سنت دجُمعې څخه وروسته وکړی نودابنه دی، کما فی بعض الروایات، او دجُمعې څخه وروسته دماپښین څلور رکعاته فرض نسته هغه دي نه کوی، کذا فی الدر المختار ناقلا عن البحر ([1]). فقط

په بنګالی ژبه کی خطبه مکروه ده: **سوال**: (۲۴۷۸) دبعضو مسلمانانو حاکمانو دطرف څخه په بنګالی ژبه کی خطبه شائع سویده کمه چې یوځای دحکومت په زور او دباو اچولو سره جاری کوی، اوکله خطیب لیری کړی، اوپخپله امام جوړسی، نوپه داسی صورة کی دخلاف سنت کیدلوڅخه ماسوادديني مصالحوپه لحاظ سره به څه خرابی وی؟

جواب: که چیری ټوله خطبه په بنګالی ژبه کی وی نودحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد مکروه ده، اودصاحبینو په روایت کی دعربی څخه په عاجزوالی څخه بغیر به خطبه صحیح نه وی اوکله چې خطبه صحیح نه سی نو دجُمعې لمونځ به ونه سی، ځکه چې خطبه دجُمعې دلمانځه په شرائطوکی ده، اوکه چیری اصل خطبه په عربی کی وی اودهغه ویلو څخه وروسته یې په بنګالی ژبه کی ترجمه وسی نوداهم خلاف سنت اومکروه ده، کما حققه الشیخ ولی الله الدهلوی فی المسوّی والمصطفٰی شرح الموطا په درمختار کی دی: وشرطا عجزه وعلی هذا الخلاف الخطبة وجمیع اذکار الصلاة وفی رد المحتار وعلی هذه الخلاف لو سبح بالفارسیة فی الصلاة اودعاء الخ ای یصح عنده لکن سیاتی کراهة الدعاء بالاعجمیة الخ ([2]) ج۱ ص ۳۲۵. فقط

دجُمعې شرائط: **سوال**: (۲۴۷۹) په یو اشتهار کی یې لیکلی دی چې دجُمعې دصحت شرائط شپږ دی، په هغه کی څلور فرض دی، دماپښین وخت، جماعت، خطبه، اذن عام، اودوه واجب دی، مصر اوسلطان، داصحیح ده اوکه نه؟ دعالمګیری حواله یې ورکړیده.

([4]). وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق (رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ ، ط. س. ج ۲ ص ۱۴۸). ظفیر

([1]). وفی البحر وقد افتیت مرارا بعدم صلاة الاربع بعدها بنیة آخر ظهر خوف اعتقاد عدم فرضیة الجمعة وهو الاحتیاط فی زماننا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۷ ط.س. ج ۲ ص ۱۳۷).ظفیر

([2]). وګوری ردالمحتار صفة الصلوة فصل فی تالیف الصلوة ج۱ ص ۴۵۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۸۴). ظفیر

جواب: دجُمعې په شرايطوکی داتفريق غلط دی چی څلورشرطونه فرض دی اودوه واجب، شرائط ټول موقوف عليه دی اوټول فرض دی، لکه چی فقهاء ليکی: چی فرض داخل ته رکن وايی اوفرض خارج ته شرط، لهذا داتفصيل کول چی بعض شرائط فرض دی او بعض واجب دی، داباالکل مهمله اوغلطه ده، اوپه عالمګيری کی داسی نسته اوپه هيڅ کتاب کی نسته، داسی کيدی نسی. [1] فقط

دوهم اذان خطيب ته مخامخ پکاردی: **سوال**: (۲۴۸۰) دهندوستان په ټولو ښارونو کی دجُمعې دوهم اذان په جومات کی دننه دمنبرسره نژدی کيږی، دعربومتعلق موعلم نسته، په قاضی خان کی يی دننه په جومات کی اذان مکروه ليکلی دی، اوپه جومات کی دننه داذان کولو ثبوت په صريحو الفاظو کې هيڅ په نظر نه راځی.

جواب: په درمختار کی دی، ويؤذن ثانيًا بين يديه [2]، هکذا فی الهداية وغيرهامن کتب الفقه، په دی باندی علامه شامی ليکلی دی، قوله يؤذن ثانيا بين يديه ای علی سبيل السنية، [3] نومعلومه سوه چی سنت اذان ثانی په جُمعه کی دادی چی خطيب ته مخامخ دمنبر سره نژدی په جومات کی دي وی، اوهمداپه عامو بلادو دعجمو اودعربو کی سلفًا اوخلفاً معمول به دی، وما رآه المسلمون حسنا فهو عندالله حسن، اودجُمعې اول اذان او دپنځه وخته (لمانځه) اذان يی دجومات دباندی ويل مستحب ليکلی دی، هغه په دی وجهی سره دی چی په لوړځای کی دي اذان وسی، ددی دپاره چی اواز ترليری پوری ولاړ سی. اوپه جومات کی داذان دکلمو هيڅ وجه نسی کيدلی، ځکه چی کم کلمات داذان دی هغه ټول په اقامت کی سره دشی زائددی، نوکله چی اقامت دهيچاپه نزد په جومات کی مکروه نه دی، نواذان څنګه مکروه کيدی سی، اوبل داچی داذان کلمات خودباری تعالی ذکردی اوجوماتونه خو دلمانځه اودباری تعالی دذکر دپاره جوړسوی دی، کما ورد فی الحديث، نودخطبی په اذان کی چونکی اعلام دحاضرينو مقصودوی ځکه چی اعلام عام

---

[1]. ويشترط لحصتها سبعة اشياء المصر ﴿ والثانی السلطان ﴿ والثالث وقت الظهر ﴿ والرابع الخطبة فيه ﴿ والخامس کونها قبلها ﴿ والسادس الجماعة ﴿ والسابع الاذن العام ﴿ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۷ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۷) الشرط لغة العلامة اللازمة وشرعا ما يتوقف عليه الشيئ ولا يدخل فيه (درمختار) اعلم ان المتعلق بالشيء اما ان يکون داخلا فی ماهيته فيسمی رکنا ﴿ اوخارجا عنه فاما ان يؤثر فيه ﴿ فيسمی علة او لا يؤثر فاما ان يکون موصلا اليه فی الجملة کالوقت فيسمی سببا او لا يوصل اليه فاما ان يتوقف الشيء عليه ﴿ فيسمی شرطا او لا يتوقف کالاذان فيسمی علامة (ردالمحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص ۳۷۳ ، ط. س. ج۲ ص۴۰۲). ظفير

[2]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۷۰ ، ط. س. ج۲ ص۱۲۱. ظفير

[3]. ايضاً ، ط. س. ج۲ ص۱۲۱. ظفير

خو په اولنی اذان سره سویدی، لهذا ددی بین یدی الخطیب په جومات کی کیدل انسب دی اوهم واجب دی اودشامی په تصریح سره ددی سنت کیدل معلومه سوه، اودبین یدیه څخه متبادر همداده چی خطیب ته مخامخ اوهغه ته دی نژدی وی. فقط

دخطبي په وخت کي چنده کول درست نه دي: **سوال**: (۲۴۸۱) دخطبی په وخت کی تیم یا ډبی په لاس کی اخیستل اودجومات دمصارفو دپاره روپی جمع کول، او دتیم او دډبی په اواز سره دلمونځ گذارو خیال منتشر کیږی، داشرعًا څنگه دی؟

جواب: دخطبی په وخت کی کله چی دلمانځه کولو او ددرود شریف ویلو هم ممانعت په حدیث شریف کی راغلی دی، نودغه وخت چنده جمعه کول اوډبی په لاس گرځیدل او لمونځ گذاره مشغوله کول خوپه درجه اولی ممنوع دی (۱). فقط

جُمعه فرض عین ده: **سوال**: (۲۴۸۲) جُمعه فرض عین ده اوکه فرض کفایه ده؟

جواب: جُمعه فرض عین ده، کما ورد فی الحدیث الجمعة واجبة علی کل محتلم (۲). فقط

چي دلويي ولسوالۍ سره کلي وي نوپه هغه کي جُمعه درسته نه ده: **سوال**: (۲۴۸۳) دولسوالۍ رضا گنج سره متصل یوموضع حسن گنج واقع دی دکم حدود چی دذکر سوی ولسوالۍ څخه بیل دی اومستقل موضع دی، لیکن درضاء گنج ډاکخانه اوڅاروی خانه دحسن گنج په حدودو کی دننه ده، آیا دحسن گنج دحدودو دبیلوالی باوجود حسن گنج درضاء گنج په فناء گرځولو سره په حسن گنج کی جمعه کیدی سی اوکه نه؟

جواب: کله چی موضع دحسن گنج مستقل اوجداگانه کلی دی اوداکوچنی کلی دی، نوپه دی کی دفقهاوو دتصریحاتو موافق جُمعه صحیح نه ده، لکه څنگه چی په شامی کی تصریح ده: وتقع فرضًا فی القصبات والقری الکبیرة فیها اسواق (الی ان قال) وفیما ذکرنا اشارة الی انها لا تجوز فی الصغیرة الخ (۳) وفی باب العیدین من الدر المختار وتکره صلوة العیدین فی القری تحریما وقال فی الشامی: ومثله الجمعة الخ، (۴) او دسوال دعبارت څخه ښکاره ده چی حسن گنج درضاء گنج فناءنه ده چی په ذکرسوی ځای

---

(۱). اذا خرج الامامة فلا صلاة ولاکلام الی تمامها الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۸). ظفیر

(۲). عن طارق بن شهاب قال قال رسول الله ﷺ: الجمعة واجبة علی کل مسلم فی جماعة رواه ابوداود (مشکوٰة باب وجوبها ص ۱۲۱) هی (ای الجمعة) فرض عین یکفر جاحدها لثبوتها بالدلیل القطعی کما حققه الکمال (در مختار) قوله بالدلیل القطعی وهو قوله تعالی: یا ایها الذین امنوا اذا نودی للصلاة من یوم الجمعة فاسعوا، الآیة ،وبالسنة، والاجماع (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۷ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۲). ظفیر

(۳). ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص۷۴۸ ط. س. ج۲ ص ۱۳۸. ظفیر

(۴). ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۵ ط. س. ج۲ ص ۱۲۷. ظفیر

کی په وجه دفناء دمصر کیدلو جُمعه صحیح سی. فقط

په هندوستان کی دجُمعې فرضیت: **سوال**: (۲۴۸۴) دجُمعې په متعلق چی دمصر کم تعریفونه فقهاوو بیان کړی دی په هغه کی دکم یو (تعریف) مطابق په هندوستان کی جُمعه فرض ده، دلته چی په کم ځای کی خلګ جُمعه کوی نو وروسته ورپسی بیا دماپښین (لمونځ) احتیاطی هم کوی؟

جواب: په هندوستان کی دجُمعې دلمانځه کولو وجه او دواجبوالی دلیل دفقهاوو هغه عبارتونه دی کم چی په بلاد الحرب کی دجُمعې دفرضیت په باره کی صریح دی: فی الشامی فلو الولاة كفارا يجوز للمسلمين اقامة الجمعة ويصير القاضی قاضيًا بتراضی المسلمين الخ ([1]) بِهٰذَا ظَهَرَ جهْلُ مَنْ يَقُولُ لَا تَصِحُّ الْجُمُعَةُ فِي أَيَّامِ الْفِتْنَةِ مَعَ أَنَّهَا تَصِحُّ فِي الْبِلَادِ الَّتِي اسْتَولَى عَلَيْهَا الْكُفَّارُ الخ، ([2]) وعبارة القهستانی وتقع فرضًا فی القصبات والقرى الكبيرة فيها اسواق (الى ان قال) وفيما ذكرنا اشارة الى انها لا تجوز فی الصغيرة الخ، ([3]) شامی. **نومعلومه سوه چی بناء دوجوب** اودجُمعې دصحت اودعدم صحت دابادی لویوالی اوکوچنی والی دی اوکم ته چی په عرف کی ښار اوولسوالی وایی هم هغه مصر دی، اوتعریفونه ټول دښار دلوازماتو په بیان کی دی چی عرفاً په ښارکی دا امور لازماًوی، اصل بنیادپرشهریت (یعنی ښاروالی) باندی دی، اوکله چی په قصباتو اولویو کلیو اوښارونوکی جُمعه بلا شبهې اوبلا تردده صحیح ده نوپه موجب دروایت دبحر: وفی البحر: وقد افتيت مرارًا بعدم صلوٰة الاربع بعدها بنية اخر ظهر خوف اعتقاد عدم فرضية الجمعة وهو الاحتياط فی زماننا الخ ([4])، داحتیاط الظهر کول داحتیاط څخه خلاف دی. فقط

آخری جُمعه دډهلی په جامع جومات کی پورواج دی، دثواب کار نه دی: **سوال**: (۲۴۸۵) عام خلګ دخپل کلی جوماتونه پریږدی اوپه اخری جُمعه کی دډهلی جامع جومات ته ځی، ایا هغوی ته زیات ثواب ورکول کیږی؟

جواب: ددی څه ضرورت نسته، په جامع جومات کی که څه هم ثواب زیات دی، لیکن دخپلی محلی اودکلی دجومات هم حق دی هغه پریښوول نه دی په کار ([5]). فقط

([1]). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۵۴ ، ط. س. ج۲ ص۱۴۴. ظفير

([2]). ايضاً ج۱ ص ۷۴۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۳۸. ظفير

([3]). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۸ ط. س. ج۲ ص۱۳۸. ظفير

([4]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۷ ، ط.س. ج۲ ص ۱۳۸ . ظفير

([5]). ومسجد حيه وان قل جمعه (افضل من الجامع وان كثر جمعه اهـ (رد المحتار باب مايفسد الصلوٰة ومايكره فيها، مطلب فی احكام المسجد ج۱ ص ۲۱۷). ظفير

دخطبې په وخت کې دسامعينو توجه: **سوال**: (۲۴۸۶) دجُمعې دخطبې په وخت کې سامعينو ته چارزانو کښېنستل ياپه پيك سره هوا کول درست دي اوکه نه؟

جواب: داسې کول ښه نه دي دخطبې په وخت کې دخطبې داوريدلو څخه ماسوا په بل څه کار کې مشغوليدل نه دي په کار (١). فقط

دښار په فناء کې په کښت کې دننه هم جُمعه درسته ده: **سوال**: (۲۴۸۷) دښار په پټې وغيره کې ددرې کسانو په موجودګۍ کې جُمعه جائزده اوکه نه؟

جواب: که چيرې دښارسره متصل دباندې په ځنګل کې دجُمعې لمونځ وکې اوداما‌م څخه ماسوا درې مقتديان وي، نوداحنافو په نزد هم جُمعه صحيح ده. (٢) فقط

دوه مستقل کلي ديوه په حکم کې نه دي: **سوال**: (۲۴۸۸) په کمرلا ضلع کې يوه لويه علاقه ده چې دهغه دوې حصې دي هره حصه يې په جلا نوم سره مشهوره ده اودواړې په خپلوکې سره نژدې اومتصلې دي په دواړو کې دلارې څخه ماسوا هيڅ حد فاصل نسته، او ددواړو علاقو ابادي په مجموعي طور سره څلور پنځه زره بني آدمان دي اوکه په هغوی کې عام مفتيان ملايان، سرکاری کارګران اوشريفان اورذيلان هرقسم کسان اوسيږي اوکورونه يې هم په خپلو کې داسې پيوست دي چې بغير دتکليفه پياده ورتللی سي، اوپه هغه کې ګلۍ او کوڅه او سر لارې هم سته او دشرعي احکامو اجراء هم د ګورنمنټ په ماتحتۍ کې په اوسيدلو سره کيږي، اودخوراك اوڅښاك شيان هم هروخت پيدا کيږي، اوددغه علاقې سره نژدې پريو ميل اويوه پاؤ فاصله باندې يولوی بازاردی، په هغه کې هم هروخت هرقسم ضروريات پيداکيږي، اوپه دغه بازارکې سرکاری پوليس، تهانه، قاضي خانه، شفاخانه، ډاکخانه اودجهاز ستيشن وغيره ټول موجوددي اوپه دغه دواړو علاقوکې دنورو جوماتونو څخه علاوه اوه جوماتونه داسې دي چې په هغه کې جُمعه کيږي اودجُمعې په وخت کې هريو جومات دلمانځه ګذارو څخه ډك کيږي اوپه دې علاقې کې دپخوا راهيسې جُمعه کيږي، ددې علاقې يومولوی صاحب وايي چې په دې ځای کې جُمعه صحيح نه ده، نوتاسې تحرير وفرماياست چې په دې علاقه کې جُمعه درسته ده اوکه نه؟ دکتابونو دحوالې سره يې تحرير وفرماياست؟

جواب: داخو ښکاره ده چې دجُمعې دصحت او دعدم صحت مدار دشرائطو په استجماع

---

(١). واذا خرج الامام ؒ فلا صلاة ولا كلام الى تمامها ؒ وكل ما حرم فى الصلاة حرم فيها اى فى الخطبة خلاصه وغيرها فى حرم اكل وشرب وكلام ؒ (ايضا باب الجمعة ج١ ص ٧٦٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٥٧). ظفير

(٢). ويشترط لصحتها الخ المصر الخ اوفناءه وهو ماحوله (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٤٧ وج١ ص ٧٤٩ ، ط. س. ج٢ ص١٣٧). ظفير

اوعدم استجماع باندی دی، نوپه صورة مسئوله کی کله چی دوه کلی په جلا جلا نومانو سره مشهوره اوموسوم دی اوپه انفرادی طور باندی په یوه کی هم دجُمعې صلاحیت نسته، نوبیا هیڅ څه وجه نسته چی خامخا دي دواړه (کلی) یوفرض سی اودجُمعې دلزوم حکم دي ولیږل سی، ځکه چی په دی کی هیڅ خفا نسته چی حضراتو فقهاوو په دوو مستقلو مستقلو علاقوکی دجُمعې صحیح کیدلو اودنه کیدلو مدار په فصل اوپه عدم فصل باندی نه دی ایښی، بلکی مدار حقیقی دهری علاقی په صلاحیت اوعدم صلاحیت باندی دی یعنی که چیری په هره علاقه کی دجُمعې دصحت شرائط پیداکیږی نوجُمعه صحیح ده کنی نه ده، په حقیقت کی دالویه اصولی غلطی ده چی صرف دجُمعې په شوق کی ددوو مستقلو ابادیوپه یوه جوړولوکی شروع سی خبره همداده چی کله دغه دوه کلی په مستقلو نومو سره موسوم دی نوبیاپه شرعی احکامو کی به هم ددی مستقلوالی پیش نظر ساتل کیږی البته که چیری واقعی دوی علاقې نه وی بلکی محلی وی او ددواړو محلو په حیثیت مجموعی یو بل نوم وی نوبیا صرف دلارو دغه فاصله هم دجُمعې دصحت دپاره مخله نه ده. لیکن که چیری داسی نه وی اوپه ظاهره نه ده نویقینًا په داسی علاقوکی جُمعه صحیح نه ده، دجُمعې دفرضیت بلونکوته په دی باندی دبی ځایه اوغیر شرعی اصرار ضرورت نسته. کتبه عتیق الرحمٰن، عثمانی

جواب: دحضرت مفتی عزیز الرحمٰن صاحب دطرف څخه:

اصل دادی چی داحنافو په نزد دجُمعې اوداخترونو لمونځ په ښار کی یاداسی لوی کلی کی فرض اوصحیح کیږی په کم کی چی بازاروی یاپه هغه لویه ولسوالیۍ کی چی پکښی دضروریاتو شیان پیداکیږی، قال فی ردالمحتار نقلاً عن القهستانی وتقع فرضًا فی القصبات والقری الکبیرة فیها اسواق الخ وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة [1] الخ وفی الدر المختار صلوة العید فی القری تکره تحریما الخ ومثله الجمعة، شامی [2]

نوکله چی ذکر سوی هره یوه علاقه دومره لویه نه ده چی پکښی دجُمعې دصحت شرط پیداسی نوددواړو علاقوپه یوګڼلو سره به جُمعه صحیح نه سی، نوپورته ذکرسوی جواب صحیح دی. فقط عزیز الرحمٰن مفتی دار العلوم

دجُمعې دقائمولو دپاره څومره ابادي په کارده؟ سوال: (۲۴۸۹) په کلی کی چی داحنافو په نزد جُمعه جائزده نوپه هغه کی کم از کم څومره ابادی په کار ده؟

جواب: ددری څلورو زرو بنی آدمانو ابادی په کارده. فقط

---

(۱). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۸. ظفیر

(۲). ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص۷۷۵ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۷ . ظفیر

ددیارلسو سوو په اٰبادی کی چی ټول شیان پیدا کیږی جُمعه پکښی درسته ده: سوال: (۲۴۹۰) دموضع فحن پور ټوله اٰبادی دیارلس سوه ده او دضروریاتو ټول شیان پکښی پیدا کیږی، دوه جوماتونه دی، نوپه دی ځای کی جُمعه جائز ده اوکه نه؟

جواب: کله چی دغه ځای دقریی کبیری په حد کی راځی او دکانونه اوبازار پکښی سته، نوجُمعه کول پکښی صحیح معلومیږی. (١) فقط

دخطبی په شروع کی بسم الله: سوال: (۲۴۹۱) دجُمعې په ورځ دخطبی څخه مخکی په لوړ اواز سره، اعوذ بالله، او د، بسم الله، ویل څنګه دی؟

جواب: دخطبی څخه مخکی دي په جهر سره اعوذ بالله اوبسم الله نه وایی دامنقول او معمول نه ده، په درمختار کی دی، ویبدأ بالتعوذ سراً الخ. (٢) فقط

خطبه پرمنبر باندی ویل سنت دی: سوال: (۲۴۹۲) ١. خطبه پرمنبر باندی ویل ضروری ضروری دی اوکه نه؟ ۲. که ضروری وی نو په خلاف کولو سره به په خطبه یا لمانځه کی څه نقصان راسی اوکه نه؟ ۳. اوپه خلاف کوونکی باندی څه اعتراض کیدی سی اوکه نه؟ ۴. حضور ﷺ په مسجد نبوی کی دمنبر دجوړیدلو څخه وروسته کله دمنبر څخه جلا خطبه ویلی ده اوکه نه؟

جواب: ١ تا ۴): خطبه په منبر باندی ویل سنت دی، فرض اوواجب نه دی، که چیری بغیر دڅه عذر څخه خطیب لاندی ودریدی اوخطبه یې وویل نوهغه دسنتو څخه خلاف وکړل اودسنتو پرینښوولو په وجهی سره دملامتیا مستحق سو. کما قال فی الدر المختار وحکمها ای السنة ما یوجر علی فعله ویلام علی ترکه الخ، (٣) اوخطبه اولمونځ صحیح سو، اوکه چیری دڅه عذر په وجهی سره یې خطبه پرمنبر باندی ونه ویله، اولاندی ودریدی وی ویل نوپه هغه باندی څه ملامتیا هم نسته، کما قال فی ردالمحتار فی التحریر ان تارکها یستوجب التضلیل واللوم اهـ والمراد الترك بلا عذر علی سبیل الاصرار الخ (٤) ص ٧١ جلد اول شامی، ومن السنة ان یخطب علیه اقتداء به

---

(١). فقهاء وو دمردم شماری هیڅ تعداد بیان کړی نه دی بلکی صرف دایې ښوولی ده چی ښار یا لویه اٰبادی وی چیری چی ضروری شیان پیدا کیږی. وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ (ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ۷۴۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۸) داٰبادی اندازه وروسته لګول سویده. صرف داٰبادی اندازه یې دری څلور زره لیکلی ده، څنګه چی ددی څخه په مخکی والا جواب کی موجود ده اوچی شهریت یعنی ښاروالی هم وی نوهغه وخت اٰبادی دولس دیارلس سوه هم کافی ده، والله اعلم.

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ۷۵۹ ، ط. س. ج۲ ص۱۴۹. ظفیر

(٣). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطهارت مطلب فی السنة وتعریفها ج١ ص۹۷ ، ط. س. ج١ ص۱۰۴. ظفیر

(۴). ردالمحتار کتاب الطهارت مطلب فی السنة وتعریفهما ج١ ص ۹۲ ، ط. س. ج۲ ص۱۲۱. ظفیر

ﷺ بحر، وان یکون علی یسار المحراب، قهستانی، ومنبره ﷺ کان ثلث درج الخ، ردالمحتار، شامی [۱] جلد اول ص ۱۵۲ فقط

دخطبې په وخت کې درود دې په زړه کې وویل سي: سوال: (۲۴۹۳) په قاضی خان ص ۸۸ جلد اول مصطفایی کې دي: واذا قال الخطیب فی الخطبة یا ایها الذین امنوا صلوا علیه الخ الآیة ، یصلی علی النبی ﷺ فی نفسه، اوپه هدایه ص ۱۰۱ جلد اول مجتبائی کې دي: الا ان یقرأ الخطیب قوله تعالٰی یا ایها الذین امنوا صلوا علیه الآیه، یصلی السامع فی نفسه سرًا، مفتی به اواصح قول څه دی؟ ایاخطیب چې دا ایت ووایی نودرود په کراره ویل په کاردی یاپه زړه کې؟ اوپه کراره ویل په ژبې سره جائزدی اوکه نه؟

جواب: په ژبې سره دي نه وایې په زړه کې دي ووایې همدا طریقه حقه ده اودېولو عبارتونو همدا مفاد [۲] دی. فقط

دجُمعې خطبه اوریدل واجب دي: سوال: (۲۴۹۴) دجُمعې خطبه اوریدل فرض دی اوکه واجب؟ زید خطبه وانه وریده او دجُمعې په لمانځه کې شامل سو همدغه شان داذان جواب ورکول واجب دی، زید داذان جواب ورنه کی، نواوس څه کول په کاردی؟

جواب: دجُمعې خطبه فرض ده، ددی دامطلب دی چې دجُمعې دلمانځه څخه مخکې خطبه ضرور ویل په کاردی، اودخطبې اوریدل پرهغه خلګو باندی واجب دی [۳] کم چې دخطبې په وخت کې حاضر وی نو که چیری یو سړی دخطبی دختمیدلو څخه وروسته راغی او د جُمعې په لمانځه کې شامل سو نودهغه لمونځ پوره سو، اوخطبې ته دنه حاضریدو اونه اوریدلو په وجهې سره چې کم قصور ځینې پیدا سو اوپه راتلو کې تاخیر وسو دهغه څخه دي استغفار اوتوبه وکاږی، اوآئنده دي احتیاط ساتی، او داذان جواب ورکول په صحیح قول باندی مستحب دی اوکم خلګ چې دوجوب قائل دی دهغوی دقول موافق په جواب نه ورکولو سره چې کمه ګناه وسوه دهغه دپاره دي توبه او استغفار وکړی. [۴] فقط

---

(۱). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۷۰. ظفیر

(۲). والصواب انه یصلی علی النبی ﷺ عند سماع اسمه فی نفسه (درمختار) وکذلك اذا ذکر النبی ﷺ لا یجوز ان یصلوا علیه بالجهر بل بالقلب وعلیه الفتوٰی رملی ؒ قوله فی نفسه بان یسمع نفسه او یصح الحروف فافهم فسروه به وعن ابی یوسف قلبا امتثالا لامری الانصات والصلاة علیه ﷺ کما فی الکرمانی ؒ (رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۱). ظفیر

(۳). وکل ما حرم فی الصلاة حرم فیها ای فی الخطبة ؒ بل یجب علیه ان یستمع ویسکت ؒ وکذا یجب الاستماع لسائر الخطب (الدر المختار علی هامش رد المحتار، باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۱). ظفیر

(۴). اما الاجابة فظاهر الخلاصة وفتاوٰی قاضی خان والتحفة وجوبها وقول الحلوانی الاجابة بالقدم فلو اجابه بلسانه ولم یمش لا یکون مجیبا، ولو کان فی المسجد لیس علیه ان یجیب باللسان. وجه حاصله نفی وجوب =

چيرې چې په عربي ژوک نه پوهيږي هلته دأردو اجازه سته: سوال: (٢٤٩٥) دسوال خلاصه دا ده چې په هندوستان کې چونکې عموما سامعين په عربي ژبه نه پوهيږي، ددې وجه د جُمعې خطبه په اردو کې ويل په کاردي، اودنثر په نسبت نظم زيات مؤثر وي ددې وجه نظم زيات مناسب دی شرعًا داجائز دی اوکه نه؟

جواب: دجُمعې خطبه دلمانځه دشرطونو څخه يوشرط دی، ددې خاص احکامات، خاص خاص لوازمات اومخصوص شرطونه دي، دا دعامو وعظونو او دتقريرونو په شان نه ده چې په هره ژبه کې په کمې طريقې سره وغواړې ودې ويل سي، ددې دخصوصيت متعلق دشرعيت قطعي اعلانات موجود دي، دحضراتو فقهاؤ فيصله ده چې کم افعال اوحرکات دلمانځه په حالت کې ممنوع دي هغه په خطبه کې هم حرام دي، دخطبې اوريدونکو لره په دغه وخت کې خوړل، چښل خبرې کول، تردې پورې چې دسلام جواب ورکول اوذکر او تسبيح ويل هم جائزنه دي، وکل ماحرم في الصلوة حرم فيها اي في خطبة (خلاصه وغيرها) فيحرم اکل وشرب وکلام ولوتسبيحا اورد سلام الخ، (١) داقسم قيودات ښودنه کوی چې دخطبې مجلس صرف دوعظ اوتذکير مجلس نه دی، بلکې دخپلو خصوصياتو په لحاظ سره دلمانځه په شان دی، نودانه سی کيدی چې شرط دصلوة په يوه محدثي طريقې غير عربي ژبې سره اداء سي، دحجاز مخاطب عربيان وه، ددې دپاره دخطبې څخه به دوعظ او دتذکير کار هم اخيستل کيدی، ليکن که چيرې عرب په عربي باندې نه پوهيږي نو دهغوی دخاطره دخطبې شرعي ژبه پريښوولې نه سي، وعظ اونصيحت او خلګ پوهول دخطبې څخه ماسوا په نورو وختونو کې هم کيدلې سی، صحابه کرام ﷺ دعجمو ملکونو ته تللې وه، ليکن ديوی واقعې څخه هم دانه ثابتيږي چې ددې عجميانو دخاطره دي دجُمعې دخطبې ژبه بدله سوې وي. حضرت شاه ولي الله ﷫ په همدې حقيقت باندې په پوهيدلو سره فرمايي چې: (عربي بودن نيز به جهت عمل مستمر در مشارق ومغارب باوجود آنکه دربسيار از اقاليم مخاطبان عجمي بودند (مسوی مصفی شرح موطا امام مالك). (٢)

دهمدې خصوصيت په سلسله کې دخطبې اختصار هم دی، په مختلفو احاديثو کې په صراحت سره موجوددي چې ترڅومره پورې کيدی سی خطبه مختصر کول په کاردي، که

= الاجابة باللسان وبه صرح جماعة وانها مستحبة حتى قالوا نائل الثواب والا فلا اثم ولا كراهة (غنية المستملي فصل في الاذان ص ٣٢٣). ظفير

(١). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ١٥٩. ظفير

(٢). مسوی مصفی ج١ ص١٥٤. ظفير

چیری موجوده وسعت دنظم اودنثر قبول سی نوددی شرط صلوٰة حقیقت به دیو دوو گهنټو ګرم مجلس څخه ماسوا هیڅ هم پاته نه سی، لهذا دجُمعې خطبه په خالص عربی کی اوپه مختصر اوجامعو الفاظو کی کیدل په کاردی، که چیری په اردو یاپه بله ژبه کی څه ویل وی نو دلمانځه څخه دفارغه کیدلو څخه وروسته دي ووایی، دلمانځه او دخطبی ترمینځ څه تقریر یا لیکچر دفصل باعث اودسنتو څخه خلاف دی. فقط

داغلطه ده چی دغیر تنخواه دار امامت درست نه دی: سوال: (۲۴۹۲) موږ خلګو به په خپله ولسوالۍ کی په حافظ قرآن مجید پسی دجُمعې لمونځ کوی، سږ کال یو مولوی صاحب تشریف راوړی اووی فرمایل چی دجُمعې دلمانځه اداء کیدلو مسئله داده چی مسلمانان دي خپل دجُمعې امام مقرر کړی هلته به جُمعه اداء کیږی، ذکرسوی امام به بغیر دتنخواه څخه دجُمعې اودپنځه وخته لمونځونه ورکول، اوس دیوی میاشتی څخه راپه دی خوا ذکر سوی مولوی صاحب جُمعه بنده کړیده اوداسی وایی چی ترڅو پوری په جومات کی دتنخواه اداره امام مقرره نه سی، نوجُمعه نه اداء کیږی سوال دادی چی په امام مذکور پسی څوك چی بغیر دتنخواه لمونځ ورکوی نولمونځ ورپسی اداء کیږی اوصحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: دامام مقررولو مطلب دادی چی چاته وویل سی چی دجُمعې لمونځ ورکړه، نوهغه جُمعه ورکولی سی، اوپه هغه پسی دجُمعې لمونځ صحیح دی نوکم حافظ صاحب به په چی پنځه وخته اودجُمعې لمونځ ورکوی په هغه پسی دجُمعې لمونځ صحیح دی. دامام تنخواه دارکیدل ضروری نه دی، بلکی بغیر دتنخواه والا امام دامامتی زیات مستحق دی په هغه پسی بیشکه لمونځ دجُمعې وغیره صحیح دی، غرض دادی چی لکه څنګه چی دنورو لمونځونو حکم دی چی کم سړی دامام کیدلو لائق وی هغه دي امام سی اوپه هغه پسی لمونځ صحیح دی. فقط

دجُمعې دخطبی څخه مخکی دسورة کهف ویل: سوال: (۲۴۹۷) دجُمعې دخطبی څخه مخکی په جومات کی سورة کهف په لوړ اواز سره ویل څنګه دی؟

جواب: دجُمعې په ورځ سورة کهف ویل مستحب دی لیکن داسی جهر دی نه کوی چی دنورو ویونکو سره یی ټکر راسی، په همدی وجه فقهاوو کرامو دډیرو خلګو په یوځای کی دقرآن کریم جهراً ویلو څخه منعه کړیده (۱) چی دا دایت کریمه، واذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا [الأعراف : ۲۰۴] منافی دی. فقط

(۱). یکره للقوم ان یقرءوا القرآن جملة لتضمنها ترك الاستماع والانصات المامور بهما كذا فی القنية (عالمگیری مصری کتاب الکراهیة باب رابع ج۵ ص ۳۲۹ ، ط. م. ج۲ ص۳۱۷). ظفیر

دنوکرۍ په وجه دجُمعې ترک کول درست نه دي: **سوال**: (۲۴۹۸) که چیرې دډاکخانې کارګر یوازې وي اودچا دسپارښتنې څخه بغیر دآفس (دفتر) څخه دباندې تللې نه سي نوهغه به جُمعه څنګه کوي؟ اوکه نه دماپښین لمونځ به اداء کوي؟

جواب: دنوکرۍ دمجبورۍ په وجه سره دجُمعې پرېښوول جائز نه دي. (۱) باقي که چیرې جُمعه نه سي کولی نوبیا هغه ته دماپښین لمونځ کول په کار دي. (۲) فقط

په خطبه کې دمنبرڅخه کښته کېدل اوختل څنګه دي؟ **سوال**: (۲۴۹۹) داللهم اعزّ الاسلام الخ، په ویلو سره دمنبر څخه کښته کېدل او د: اللهم انصر الخ، ویلو په وخت کې منبرته ختل جائزدي اوکه نه؟

جواب: ددې عمل څه اصل نسته. فقط

دجُمعې لمانځه ته چې خطیب اوامام رانه سي نوبل سړی امام جوړول درست دي: **سوال**: (۲۵۰۰) دجُمعې دلمانځه مقرر وخت ته چې نه خطیب صاحب حاضرسو، اونه نائب خطیب، دنیم ساعت انتظار کولو څخه وروسته متولي صاحب بل سړي ته دخطبې ویلو او دلمانځه ورکولو حکم ورکولی سي اوکه نه؟

۲\ . بل سړی لمونځ ورکولی سي اوکه نه؟ اودغه لمونځ به صحیح سي اوکه نه؟

۳\ . خطیب صاحب همیشه په پنځه وخته لمانځه کې غیر حاضر اوسي اوتجارت کوي، نو په هغه پسې اقتداء کول درست دي اوکه نه؟

جواب: ۱،۲: (حکم) ورکولی سي اوبل سړی لمونځ ورکولی سي اودغه لمونځ صحیح دي، ۳. لمونځ درست دي. فقط

دجُمعې دپرېښوونکو دپاره دماپښین جماعت جائزنه دي: **سوال**: (۲۵۰۱) یوڅو کسان دجُمعې په لمانځه کې دشرکت کولو څخه پاته سول هغوی په دغه جومات کې دماپښین دلمانځه جماعت کولی سي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کې دي: وكذا اهل مصر فاتتهم الجمعة فانهم يصلون الظهر بغير اذان ولا اقامة ولا جماعة الخ وفى الشامى قال فى الولوالجية، ولا يصلى يوم الجمعة جماعة بمصر الخ، شامى (۳)

---

(۱). هى فرض عين يكفر جاحدها لثبوتها بالدليل القطعى كما حققه الكمال (درمختار) بالدليل القطعى وهو قوله تعالى: يا ايها الذين امنوا اذا نودى للصلاة من يوم الجمعة فاسعوا، الاية وبالسنة وبالاجماع ﷺ قول القدورى ومن صلى الظهر يوم الجمعة فى منزله ولا عذر له كره وجازت صلاته (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۷ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۲). ظفير

(۲). وحرم لمن لا عذر له صلاة الظهر قبلها اما بعدها فلا يكره في يومها بمصر لكونه سببا لتفويت الجمعة وهو حرام (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۵ ، ط. س. ج۲ ص۱۵۵). ظفير

(۳). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۲۲ ، ط. س. ج۲ ص۱۵۷. ظفير

نومعلومه سوه چی دکمو خلکو څخه جُمعه فوت سی نو هغوی دي دماپښین جماعت نه کوی، ځان ځان ته دی لمونځ وکړی.

په یوجومات کی دوه واره دجُمعې لمونځ مکروه دی: **سوال:** (۲۵۰۲) امام یا غیر امام د جُمعې لمونځ په جومات کی په جماعت سره وکی، دهغه څخه وروسته پنځه شپږ کسان راغلل، نواوس داخلگ دجُمعې لمونځ وکړی اوکه نه دماپښین؟ که چیری دماپښین لمونځ کوی نوپه دغه جومات کی یی وکړی اوکه نه په بل جومات کی یی جلاجلا وکړی؟ که چیری دغه باقی خلگ دجُمعې لمونځ په یوکور کی یاپه میدان کی وکړی نودرست به وی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی دجُمعې په ورځ دماپښین لمونځ په جماعت سره کول مکروه تحریمی ([1]) دی، اوپه دی جومات په کم کی جُمعه سویده دوباره دي نه کوی، ([2]) بلکی که چیری په بل ځای کی دجُمعې جماعت کیږی نوهلته دي جُمعه اداء کړی، اوکه نه نو دماپښین (لمونځ) دي جلا جلا اداء کړی اودجُمعې دپاره مسجدوالی شرط نه دی، په هر ځای کی اومیدان دښار کی هم جُمعه اداء کیږی ([3]). فقط

په جُمعه کی هم فتحه ورکول اواخیستل درست دی: **سوال:** (۲۵۰۳) دامام څخه په اولنی رکعات کی په درو آیتونوکی دننه هیره وسوه اومقتدی فتح ورکړه، امام فتح واخیسته اوسجده سهوه یی وکړه نو دلمانځه دوباره راگرځول په کاردی اوکه نه؟

جواب: لمونځ به صحیح سی او دراگرځولو ضرورت یی نسته، او دسجده سهوی هم ضرورت نه وو ځکه چی په فتح ورکولو اوپه فتح اخیستلوسره لمونځ نه ماتیږی ([4]). فقط

څوک چی په تشهدکی شریک سی نوهغه دي جُمعه وکړی: **سوال:** (۲۵۰۴) دجُمعې په اخری قعده کی دوه لمونځ گذاره شریك سول دسلام څخه وروسته هغوی دوه رکعاته دجُمعې وکړل، داصحیح دی اوکه نه هغوی ته دماپښین لمونځ کول په کاروو؟

([1]). وکره تحریما لمعذورین ومسجون ومسافر اداء ظهر بجماعة فی مصر قبل الجمعة وبعدها ؒ وکذا اهل مصر اذا فاتهم الجمعة فانهم یصلون الظهر بغیر اذن ولا اقامة ولا جماعة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۷۲ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۷). ظفیر

([2]). والظاهر انه یغلق ایضا بعد اقامة الجمعة لئلا یجتمع فیه احد بعدها (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۷۲، ط. س. ج۲ ص۱۵۲). ظفیر

([3]). وتؤدی فی مصر واحد بمواضع کثیرة مطلقا علی المذهب وعلیه الفتوٰی (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۵۵ ، ط. س. ج ص۱۴۴). ظفیر

([4]). بخلاف فتحه علی امامه فانه لایفسد مطلقا لفاتح واخذ بکل حال (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ما یفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۸۲ ، ط. س. ج۱ ص۲۲۲). ظفیر

جواب: صحيح همداده چی كم خلگ دجُمعې دلمانځه په تشهد كی شريك سی هغوی دي دجُمعې لمونځ پوره كړی، دماپښين لمونځ دي نه كوی، نو ددغو خلگو لمونځ صحيح سو. (١) فقط

په جُمعه كی به لاحق لمونځ څنگه پوره كوی؟ **سوال**: (٢٥٠٥) يو سړی دجُمعې په لمانځه كی په دوهم ركعات كی شامل سو دهغه اودس مات سو هغه داودس كولو دپاره ولاړی، چی بيرته راغی نوامام سلام وگرځوی نوهغه به خپل لمونځ څنگه پوره كوی؟

جواب: دغه سړی چی بيرته راسی، نودجُمعې باقی مانده يوركعات دي پوره كړی، قعده دي وكړی، اوسلام دي وگرځوی، دهغه دجُمعې لمونځ به اداء سی. كذا فی الدر المختار والشامی (٢).

دخطبی دشروع كيدلو څخه وروسته پيک وهل: **سوال**: (٢٥٠٦) دجُمعې دخطبی دشروع كيدلو څخه وروسته دپيك وهل جائزدی اوكه نه؟

جواب: دخطبی په وخت چپ چوپ اوخاموش اوسيدل اوخطبه اوريدل ضروری دی په حديث شريف كی وارد دی (من مس الحصا فقد لغا) يعنی چاچی كانړو ته لاس وروړی نوهغه هم خطاكار وكی اودثواب څخه محروم پاته سو، نودخطبی په وخت كی پيك وهل په همدی وجهی سره منع ليكل سوی دی، اوپه درمختار كی دی: وكل ماحرم فی الصلوة حرم فيها، يعنی كم شی چی په لمانځه كی حرام دی هغه په خطبه كی هم حرام دی. فقط

په يوښار كی په دری جوماتونو كی جُمعه: **سوال**: (٢٥٠٧) په يوه ښار كی دری جوماتونه دی، ديو يو ميل پرفاصله باندی اوپه دری واړو كی جُمعه كيږی، صحيح ده اوكه نه؟ جامع جومات مختصر وو، په دی وجه هغه يی شهيد كی اوجامع جومات وسيع سو، اكثره وايی چی جُمعه دی په يوجومات كی وی، اواكثره وايی چی په دری واړو كی جُمعه كيدل په كاردی، په دی صورة كی څه كول په كاردی؟

په جامع جومات كی چی ټول سړی نسی راتلی نوڅه به كوی؟ **سوال**: (٢٥٠٨ \ ٢) په جامع جومات كی چی ټول سړی نسی راتلی نوڅه كول په كاردی؟

كم كارگران چی جامع جومات ته نسی تلی نوهغوی په نژدی والا جومات كی جُمعه كولی سی: **سوال**: (٢٥٠٩ \ ٣) اكثره خلگ كارگران دی جامع جومات ته نه سی رسيدلی، او نژدی والا جومات ته ورتللی سی نو دداسی خلگو دپاره څه ارشاد دی؟

---

(١). ومن ادركها فی التشهد اوسجود سهو علی القول به فيها يتمها جمعة الخ كما يتم فی العيد الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٧٢ ، ط. س. ج٢ ص١٥٧). ظفير

(٢). ومن سبقه الحدث فی الصلوة انصرف الخ وتوضا وبنی الخ (هدايه باب الحدث فی الصلوة ج١ ص ١١٥). ظ

جواب: ١\ . جُمعه په هرځای کی درسته ده، په دری واړو جوماتونو کی جُمعه کیږی. ([1])
٢\ . ښه داده چی جُمعه په یوځای جامع جومات یعنی په غټ جومات کی وسی.
٣\ . که چیری په یوه جومات کی دجُمعې ټوله لمونځ ګذار نه سی راتللی نوپه بل جومات کی دي جُمعه وسی.
٤\ . داسی خلګ دي په نژدی جومات کی جُمعه وکړی، غرض داچی په یو ښار او ولسوالی کی په ډیرو ځایونو کی جُمعه جائز ده، البته ښه داده چی که چیری څه تکلیف نه وی نوپه یوځای کی دي کوی. ([2]) فقط

په دوه زره ابادی کی جُمعه: **سوال**: (٢٥١٠) په پلواړه نومی ځای کی دوه زره ابادی ده اوپه موضع محمد پور کی کم چی دپلواړی سره ملحق دی یوزر (١٠٠٠) ابادی ده، اودجامو (کپړو) اودعطار دوکان په دواړو ځایونو کی سته، نوپه دی صورة کی په دواړو ځایونو کی جُمعه کیدی سی اوکه نه په یوځای کی؟

جواب: معلومیږی چی پلواړه نومی ځای لوی کلی دی، اومحمد پور داسی نه دی نوښه دامعلومیږی چی صرف په پلواړه کی جُمعه کوی، البته که دغه دواړه کلی یوګنډل کیږی نوبیا په دواړو ځایونو کی جُمعه صحیح ([3]) ده. فقط

دخطبی په وخت کی امام ته روپی ورکول او دهغه طرف ته روپی غورځول درست نه دی:

سوال: (٢٥١١) کله چی امام خطبه وایی نوبعض کسان پرمنبر باندی دامام دپاره دوه دوه انی یاڅلور انی یاروپی وغیره ورغورزوی، داجائز دی اوکه نه؟ اوامام ته دهغه اخیستل جائزدی اوکه نه؟

جواب: دخطبی په حالت کی داکار ناجائز دی اودغه خلګ ددی حرکت څخه بندول لازم دی. ([4]) باقی دامام په حق کی دهغه اخیستل جائز دی. فقط

په دری زره (٣٠٠٠) ابادی کی جُمعه: **سوال**: (٢٥١٢) ددوو کلیو تر مینځه فاصله یو قوس

---

[1]. وتؤدی فی مصر واحد بمواضع كثيرة مطلقا (الدر المختار على هامش رد المحتار باب الجمعة ج ١ ص ٧٥٥ ، ط. س. ج٢ ص١٤٤) په شامی کی دی: دفعًا للحرج ای لان فی الزام اتحاد المواضع حرجا بينا لاستدعائه طويل المسافة الخ (ردالمحتار ج١ ص ٧٥٥ ، ط. س. ج٢ ص١٤٥). ظفير

[2]. ولاجل ان الجمعة جامعة للجماعات قال الامام ابو يوسف لا يجوز تعدد الجمع فی مصر واحد (الی قوله) وقال الامام محمد ورواه عن الامام ابی حنيفة رحمه الله وهذاه الرواية هی المختارة وعليه الفتوىٰ انه يجوز تعدد الجمعة مطلقا (رسائل الاركان ص ١١٨). ظفير

[3]. وتقع فرضا فی القصبات والقرى الكبيرة التی فيها اسواق (ردالمحتار ج١ ص ٧٤٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٨). ظ

[4]. په حديث کی دی (من مس الحصا فقد لغا) اوپه درمختار کی دی وكل ماحرم فی الصلوة حرم فيها ای فی الخطبة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٢٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٥٩). ظفير

(۳۵۲۰) ګزه) ده اوداول کلی ابادی دری زره ده اوپه دوهم کلی کی دری جوماتونه دی او جُمعه پکښی کیږی په اولنی کلی اوپه دوهم کلی کی جُمعه فرض ده اوکه نه؟

دجُمعې څخه وروسته سنتونه: **سوال**: (۲۵۱۳) دجُمعې څخه وروسته شپږ سنتونه دی، دا د ماپښین سنتونه دی اوکه نه دجُمعې؟

جواب: ۱\. اولنی کلی لوی دی په هغه کی جُمعه فرض ده اودوهم کلی هم که چیری همدغه شان لوی وی نوهلته هم فرض ده. ([1])

۲\. دا دجمع سنتونه دی ([2]). فقط

دجُمعې او داخترونو په خطبو کی تسمیه: **سوال**: (۲۵۱۴) دجُمعې یا داخترونو دخطبی په شروع کی بسم الله جهرًا ویل په کاردی اوکه سرًا؟

جواب: په درمختار کی دی، ویبدا بالتعوذ سرا، په شامی ([3]) کی دی، ای قبل الخطبة الاولی بالتعوذ سرا ثم بحمدالله والثناء علیه الخ دبسم الله جهر ثابت نه دی لهٰذا جهرا دبسم الله ویل نه دی په کار.

دجُمعې په ورځ جُمعه فرض ده اوکه ماپښین: **سوال**: (۲۵۱۵ \۱) دجُمعې په ورځ فرض وخت جُمعه دی اوکه نه ماپښین؟ اوجُمعه دماپښین قصرده اوکه نه څه ده؟

دجُمعې دپاره شرائط دي: **سوال**: (۲۵۱۶ \۲) جُمعه داحنافو په نزد مطلقا په هرځای کی فرض ده اوکه نه مقید بالشرائط ده؟

په کوچنی کلی کی دجُمعې په لمانځه کولو سره به دماپښین لمونځ ساقط سی اوکه نه؟

سوال: (۲۵۱۷ \۳) .په کمه علاقه کی چی دمصر هیڅ یوتعریف صادق نه راځی، په هغه کی دجُمعې په کولو سره به دامام صاحب رحمه الله په نزد دماپښین ساقط سی اوکه نه؟

دجُمعې دپاره دسلطان شرط: **سوال**: (۲۵۱۸ \۴) دجُمعې دپاره چی اصحاب متون دسلطان شرط لیکی، دا دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دی اوکه نه؟

چی سلطان نه وی نودجُمعې حکم: **سوال**: (۲۵۱۹\۵) دامام صاحب رحمه الله څخه څه تصریح سته، چی کم ځای سلطان نه وی هلته هم جُمعه کوی اوماپښین پریږدی؟

دمتاخرینو په قول باندی عمل: **سوال**: (۲۵۲۰\۶) دمتاخرینو په قول باندی عمل کوونکی به دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله مقلد پاته سی اوکه نه؟

([1]). وتقع فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق (ردالمحتار ج۱ ص ۷۴۸ ، ط. س. ج۱ ص ۱۳۸). ظفیر

([2]). والسنة قبل الجمعة اربع وبعدها اربع وعند ابی یوسف رحمه الله السنة بعد الجمعة ست رکعات والافضل ان یصلی اربعا ثم رکعتین للخروج عن الخلاف (غنیة المستملی ص ۳۷۲). ظفیر

([3]). وګوری ردالمحتار ج۱ ص ۷۵۹. ظفیر

نمبر دار دقاضی قائم مقام دي اوکه نه؟ سوال: (۲۵۲۱\۷) دنمبر دارانو او دچوکیدارانو او دجوماتونو دامامانو سته والی دمصر یادسلطان دشرط په پیدا کیدلو کی کافی دی اوکه نه؟ یعنی امیر یاقاضی کم چی دمصر په حدودو کی ملحوظ دی دهغوی پرځای نمبر دار یا پیش امام کیدی سی اوکه نه؟

احتیاط الظهر: **سوال**: (۲۵۲۲\۸) که چیری یو حنفی دجمعو دتعدد په وجه، یا داشتباه فی المصر په وجه دجُمعې دلمانځه څخه وروسته دماپښین لمونځ وکی نو ایا هغه به دمذهب څخه خارج سی؟

دجُمعې څخه وروسته ماپښین: **سوال**: (۹\ ۲۵۲۳) دفقهی په یومعتبر کتاب کی یی داشتباه فی المصر په حالت کی هم دجُمعې څخه وروسته دماپښین دلمانځه څخه منع والی لیکلی دی؟

جواب: ۱\. صحیح داده چی فرض وخت ماپښین دی اوجُمعه یی بدل دی، لان فرض الوقت عندنا الظهر لا الجُمعه الخ. شامی جلد اول فی بحث النیة، جُمعه دماپښین دلمانځه قصر نه دی بلکی په دی اعتبار سره مستقل فرض دی چی ددی سره دماپښین لمونځ ساقط کیږی.

۲\. معتبر بالشرائط ده ([1]).

۳\. نه ساقطیږی ([2]).

۴\. دفقهی دکتابونو څخه معلومیږی چی که چیری سلطان وی نودهغه اذن ضروری دی. اوکه نه وی نوڅوك چی امام مقرر سی هغه دجُمعې امام کیدی سی اوجُمعه صحیح ده ([3]).

۵\. وروسته دهغه څخه چی فقهاء وو یوه خبره په مذهب کی مفتٰی به وګرځوی نوموږ ته ددی دپوښتنی کولو ضرورت نسته چی دامام صاحب ﷬ څخه داقول صراحة منقول دی اوکه نه؟ (اما نحن فعلینا اتباع مارجحوه وصححوه الخ (درمختار) قال فی الشامی قوله واما نحن یعنی اهل الطبقة السابعة وهذا مع السوال والجواب ماخوذ من تصحیح الشیخ قاسم، قوله: کما لو افتوا في حیاتهم ای کما نتبعهم لو کانوا احیاء وافتونا بذلك

([1]). ویشترط لصحتها سبعة اشیاء الاول المصر الخ (درمختار باب الجمعة ط. س. ج۲ ص ۱۳۷). ظفیر

([2]). ولو صلوا فی القری لزمهم اداء الظهر (ردالمحتار ج۱ ص ۷۴۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۸). ظفیر

([3]). واذن السلطان اومأموره باقامتها (درمختار) واما فی بلاد علیها ولاة کفار فیجوز للمسلمین اقامة الجمعة والاعیاد ویصیر القاضی قاضیا بتراضی المسلمین ویجب علیهم طلب وال مسلم آه (ردالمحتار باب القضا ج ۳ ص ۳۵۰ ، ط. س. ج ۲ ص ۱۷۵). ظفیر

فانه لا یسعنا مخالفتهم الخ (۱) ، اوپه معراج الدرایه کی دمبسوط څخه نقل دی: فلو الولاة کفاراً یجوز للمسلمین اقامة الجمعة ویصیر القاضی قاضیا بتراضی المسلمین ویجب علیهم ان یلتمسوا ولیا مسلما. انتهٰی. (۲) وفی الدر المختار ونصب العامة الخطیب غیر معتبر مع وجود من ذکر اما مع عدهم فیجوز للضرورة. درمختار (۳)

۶\. ضرور به پاته وی.

۷\. محض دا امور کافی نه دی بلکی داضروری دی چی دغه علاقه یابښار یاولسوالۍ یاقریه کبیره دي په شان دولسوالۍ وی چی په هغه کی بازار او دوکانونه وی، او ضروریات پکښی ټول پیدا کیږی، (کما صرح به فی الشامی وغیره).

۸\. دمذهب څخه نه خارجیږی.

۹\. کله چی یوځای دمفتی به قول موافق محل دجُمعې وګرځیدی نوبیا هلته دجُمعې څخه وروسته دماپښین لمونځ کول همدغسی دی لکه څنګه چی دجُمعې دتعداد دخلاف په وجهی سره څوك کسان دماپښین احتیاطی لمونځ کوی اوکله چی دامنع دی نوهغه به هم منع وی. فقط

دهری میاشتی جلا جلا خطبه ضروری نه ده: **سوال**: (۲۵۲۴) هره میاشت دجُمعې جلا جلا خطبه ضروری ده اوکه نه؟

جواب: هره میاشت دجُمعې جلا جلا خطبه کیدل ضروری نه دی (۴).

دجُمعې دوهم اذان: **سوال**: (۲۵۲۵) دجُمعې ددوهم اذان په جومات کی دننه ویلو څه حکم دی؟ ایا مکروه دی؟ دبریلی په فتوٰی کی ددی ممانعت سویدی، او دابوداود شریف دحدیث شریف څخه استدلال سویدی؟

جواب: دبریلی ددی فتوٰی ډیر جوابونه شائع سویدی دمدرسی مظاهر علوم سهارنپور څخه مفصل جواب چاپ سویدی اوشائع سویدی دهغه ځای څخه یی راوغواړی اووی ګوری تحقیق دادی چی دجُمعې دوهم اذان په جومات کی کیدل مکروه نه دی، اودفقهی دکتابونو عبارت: لا یؤذن فی المسجد، دجُمعې ددوهم اذان په باره کی نه دی، بل داچی ددی عبارت څخه غرض دادی چی دپنځه وخته لمانځه په اذان کی غرض اعلام دی، نوپه

---

(۱). ردالمحتار مقدمة مطلب فی طبقات الفقهاء ج۱ ص ۷۲ ، ط. س. ج۱ ص ۷۷. ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۵۴ ، ط. س. ج۲ ص۱۴۴. ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۵۴ ، ط. س. ج۲ ص ۱۴۳. ظفیر

(۴). کما روت ام هشام اخذت ق والقرآن المجید من فیّ رسول الله ﷺ یقرأ بها کل جمعة ، رواه مسلم ، قال شراح الحدیث کان سورة ق فی مدة کانت ام هشام حاضرة ولم یکن دائما (رسائل الارکان ص ۱۱۲). ظفیر

دی وجه سره لوړ ځای مناره وغیره ددی دپاره مسنون ده، اومراد ددی عبارت څخه دادی چی دپنځه وخته لمونځونو اذان په جومات کی په داشان سره ویل چی په هغه کی اعلام نه وی مثلا دجومات په دننه حصه کی اذان کول دسنت څخه خلاف دی په هرحال دجُمعې اذان په دی کی داخل نه دی، لتصریح الفقهاء بخلافه (۱)، او دابوداود شریف حدیث مبارك په خارج عن المسجد کیدلو کی نص نه دی، ځکه چی په دی کی داهم احتمال سته چی، علی قرب باب المسجد، مراد واخیستل سی، اوددی په ثبوت کی هم کلام سوی دی. فقط

حدیث لا صلاة ولا کلام: **سوال**: (۲۵۲۲) په حدیث شریف: واذا خرج الامام فلا صلاة ولا کلام، کی ددی کلام څخه مرادمطلق کلام دی اوکه دنیوی کلام ورڅخه مراد دی، دفقهاؤ دعبارت څخه دنیوی کلام مراد معلومیږی، چی دخطبی دشروع کیدلو په وخت کی دنیوی کلام منع دی تسبیح اذکار وغیره منع نه دی اوس په دی بناء دخطبی داذان جواب ورکول یا دوسیلی دعاء ویل به جائزوی، څنګه چی دبعضی عبارتونو څخه صفا ښکاره ده: واما الکلام فانما یکره منه قبل شروع الخطبة الدنیوی لا الذی کالاذکار والتسبیح وبعد الشروع فیها یکره مطلقا هذا هو الاصح کما فی النهایة وغیره فلا تکره اجابة الاذان الذی یؤذن بین یدی الخطیب وقد ثبت ذلك من فعل معاویة ﵁ فی صحیح البخاری ولا دعاء الوسیلة الماثورة بعد ذلك الاذان هذا عند ابی حنیفة ﵀ وعندهما لا باس بالکلام ای الدنیوی اذا خرج الامام قبل ان یشرع فی الخطبة فاذا نزل قبل یکبر لان الکراهة للاخلال بالاستماع ولا استماع ههنا بخلاف الصلاة فانها قد تمتد کذا فی الهدایة، په دی کی مفتیٰ به اوصحیح کمه خبره ده جائزدی اوکه نه مکروه دی؟

جواب: په حدیث، اذا خرج الامام فلا صلاة ولا کلام، کی زموږ دحضراتو مسلك دکلام عام درلودل دی لکه څنګه چی دحدیث شریف داطلاق څخه ښکاره ده اودصلوٰة سره ددی منضم فرمایل نور هم ددی مؤید دی اودصاحبینو" خلاف په قبل شروع فی الخطبة کی مشهور دی، بعضو فقهاء وو دامام صاحب ﵀ په نزد هم کلام دینی دامام دخروج څخه وروسته قبل الخطبه جائز نقل کړی دی، لیکن مشهوره مذهب دامام صاحب ﵀ همدا دی: چی دخروج دامام څخه کلام مطلقا منع دی خواکه دینی وی اوکه دنیوی کلام وی او دفقهاء وو ډیر نصوص پردی باندی دال دی چی امام صاحب ﵀ کلام عام اخلی، نو که

---

(۱). ویؤذن ثانیا بین یدیه ای الخطیب (الی قوله) اذاجلس علی المنبر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۷۰ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۱) قوله ویؤذن ثانیا بین یدیه ای علی سبیل السنیة کما یظهر من کلامهم (ردالمحتار ج۱ ص ۷۷۰ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۱). ظفیر

چیری بعضو فقهاؤ کرامو قبل الخطبه دینی کلام جائز لرلی دی اودیته یی اصح فرمایلی دی څنګه چی دعنایی اودبنایی څخه منقول دی نوهغوی دصاحبینو رحمه الله مذهب اختیار فرمایلی دی، باقی مذهب دامام اعظم رحمه الله همدا دی چی کلام مطلقا مکروه دی، او اجابت داذان بین یدی الخطیب مکروه دی. مولانا عبد الحی صاحب مرحوم رحمه الله چی دصاحب درمختار کمه تخطیه کړیده هغه صحیح نه ده، اوتاسی چی کم عبارت دمولانا موصوف نقل کړی دی، اودهغه په اخره کی دی، کذا فی الهدایه، نودهدایی په کتلو سره معلومیدلی سی چی دغه حواله بجنسها صحیح نه ده کما لا یخفی علی من طالع الهدایه، اوس احقر هغه بعض عبارات لیکی دکمو څخه چی معلومیږی چی دامام صاحب رحمه الله خلاف په مطلب کلام کی دی که دنیوی وی اوکه دینی وی، اوامام صاحب رحمه الله مطلق کلام پس دخروج دامام څخه منع فرمایی اوبل داچی دجُمعې داذان ثانی اجابت مکروه دی، په درمختار باب الجمعة کی دی، وقالا لا باس بالکلام قبل الخطبة وبعدها وإذا جلس عند الثاني والخلاف في الكلام يتعلق بالآخرة، أما غيره فيكره إجماعا، وعلى هذا فالترقية المتعارفة في زماننا تكره عنده لا عندهما وأما ما يفعله المؤذنون حال الخطبة من الترضي ونحوه فمكروه اتفاقا وتمامه في البحر. والعجب أن المرقي ينهى عن الامر بالمعروف بمقتضى حديثه ثم يقول: انصتوا رحمكم الله. قلت: إلا أن يحمل على قولهما فتنبه ([1]) (درمختار) قوله: إلا أن يحمل على قولهما لانه يقول ذلك قبل الخطبة، وهما يحملان قوله ﷺ : والامام يخطب على الشروع فيها حقيقة، فحينئذ لا يكون المرقي مخالفا لحديثه بقوله: انصتوا، أما على قول الامام من حمل قوله: يخطب على الخروج للخطبة بقرينة ما روي: إذا خرج الامام فلا صلاة ولا كلام فيكون مخالفا لحديثه الذي يرويه ويكره الخ رد المحتار ([2]) شامی، وفی الشامی ایضاً قبیله والظاهر ان مثل ذلك يقول ايضا فی تلقين المرقی الاذان للمؤذن والظاهر ان يكون الكراهة على المؤذن دون المرقی لان سنة الاذان الذی بين يدی الخطيب تحصل باذان المرقی فيكون المؤذن مجيبا لاذان المرقی واجابة الاذان حينئذ مكروهة الخ ([3]).

دشامی ددی قول: واجابة الاذان حينئذ مكروهة، څخه دابنکاره کیږی چی داکراهت داحنافو په نزد داسی مسلم اومعروف دی چی په دی کی هیڅا ته څه تامل اوخلاف نسته، نوددی څخه ددرمختار دصاحب دهغه قول صحت واضح کیږی کم چی په باب

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۷۹ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۹-۱۶۱-۱۶۰. ظفیر

([2]). ایضاً حوالۀ بالا . ظفیر

([3]). ایضاً حوالۀ بالا . ظفیر

الاذان کی دی: وینبغی ان لا یجیب بلسانه اتفاقا فی الاذان بین یدی الخطیب، البته داتفاق دلفظه څخه داشبهه کیدی سی چی داکراهت دامام صاحب رحمه الله دقاعدی موافق دی نه دصاحبینو دقول، لیکن ددی جواب دادی چی ددرمختار دصاحب غرض دادی چی مشائخو بالاتفاق په دی باره کی دامام صاحب رحمه الله قول اختیار کړیدی، اوپه اتفاق سره یی دجُمعې ددوهم اذان دجواب دمکروهوالی فتوٰی ورکړیده، ثانیاً داچی که څه هم چی قاعده دصاحبینو رحمهما الله تعالی به ددې دجواز تقاضا کوی لیکن دهغوی څخه ددی دجواز تصریح نه ده منقول، بلکی کیدی سی چی کراهت ورڅخه منقول وی اوهمدا قول ددرمختار دصاحب په دی باره حجت ګڼل کیږی ځکه چی، هم اعلم بمذاهب الاصحاب، په دی صورة کی به داتفاقا معنٰی دامام صاحب اودصاحبینو رحمهم الله داتفاق وی، اوکله چی داسی لوی سړی دا اتفاق نقل کوی نوموږ لره محض پردی بناء باندی چی دصاحبینو رحمهما الله مذهب ددی مقتضی نه دی، انکار نه ښایی.

احقر وایی چی دصاحبینو رحمهما الله قول هم ددی اجابت دکراهت تقاضا کوی ځکه چی داذان داخری کلمی په اجابت سره دوسیلی دعاء هم وی کمه چی داذان او داذان داجابت څخه وروسته ده اودغه دشروع فی الخطبة وخت دی اوهغه په اتفاق سره ددینی اودنیوی کلام دکراهت وخت دی اوپه دی کی بحث کول: چی امام به هم اجابت کوی او دوسیلی دعاء به وایی نوشروع فی الخطبه ونه سوه چی دصاحبینو رحمهما الله په نزد اجابت ته مکروه وویل سی، محل دتامل دی، ځکه چی داذان دختمیدلو څخه وروسته دخطبی شروع کیدل متوارث دی اودامام داجابت دعوه کول په خپله فرعه دثبوت ده، حالانکه تصریح دفقهاؤ ددی څخه خلاف ده، حاصل داچی ددرمختار قول ته خطاء ویل عجب درعجب دی، او دعلامه شامی دتصریح څخه صفامعلومیږی چی کراهت داجابت داذان بین یدی الخطیب یومسلّم امردی، څنګه چی دعبارت دسیاق څخه واضح دی په اخره کی داعرض دی چی داختلاف په صورة کی احوط هم داده چی اجابت دي ترك سی. فقط

په دیارلس سوه ابادی کی جُمعه: سوال: (۲۵۲۷) دیوه کلی آبادی دولس دیارلس سوه ده او اکثره دوکانونه هم سته اوضروریات هم پیدا کیږی اودهمیشه راهیسی دلته دجُمعې او داخترونو لمونځونه کیږی په دی قریه کی دجُمعې اوداخترونو څه حکم دی؟

جواب: قريه مذكوره لويه قريه ده په هغه كي جُمعه واجبه اواداء كيږي، په شامي كي دي: وتقع فرضًا فی القصبات والقرى الكبيرة فيها اسواق قال ابو القاسم هذا بلا خلاف اذا اذن الوالی والقاضی ببناء المسجد الجامع واداء الجمعة الخ (١). فقط

په غير عربي ژبه كي خطبه خلاف سنت ده: **سوال**: (٢٥٢٨) خطبه په غير عربي ژبه په نظم يانثر كي ويل جائز دي اوكه نه؟ ددلائلو سره يي تحرير وفرماياست؟

جواب: چونكي مقصود دخطبي څخه دباري تعالي ذكردي، نه داچي وعظ، بلكه داضمني شي دي، په همدي وجه دحضرت امام ابوحنيفة رحمه الله مذهب دي چي كه چيري په خطبه كي فقط ذكرالله وي اوپند وغيره ذكر پكښي نه وي نوهم جائزدي. ولنا ان الخطبة ذكر والمحدث والجنب لا يمنعان الخ، مبسوط. (٢)

قال صاحب الهدايه فان اقتصر على ذكر الله تعالى جاز عند ابي حنيفة رحمه الله، وفي بعض كتب الفقه يصح الاقتصار فی الخطبة على ذكر خالص لله تعالى عند ابي حنيفة رحمه الله.

ددي عبارتونو څخه دپورتني مضمون ثبوت كيږي، نوكله چي خطبه په اصل كي محض دذكر نوم دي نوددي ضرورت پاته نه سو، چي خطيب دبعضو سامعينوپه وجه سره دقرآن كريم اورسول اودجنت ژبه پريږدي اوپه أردو، انګريزي، جاپاني، فارسي، پښتو، اونورو ژبوكي خطبه ووايي دسلفو صالحينو صحابه كرامو رضي الله عنهم او دتابعينو او دائمه كرامو رحمهم الله تعامل باوجود ددي چي صحابه كرام رضي الله عنهم په ملك فارس كي تشريف فرما سول، ليكن په فارسي كي يي خطبه ونه ويل بلكي په عربي كي يي ويلي ده، كما نقله شاه (٣) ولي الله الدهلوي رحمه الله، دادلالت كوي چي خطبه په عربي كي ويل په كاردي اوپه غيرِ عربي مثلا أردو وغيره كي جائز دي ليكن خلاف دي دطريقي درسول الله صلى الله عليه وسلم او دتعامل دصحابه كرامو رضي الله عنهم اودتابعينو اودائمه مجتهدينو رحمهم الله څخه.

حضرت مولانا عبدالحی صاحب لكهنوي رحمه الله په عمدة الرعايه حاشيه شرح وقايه باب الجمعة كي تحرير فرمايلي دي چي خطبه په أردو نظم اونثر كي جائزده ليكن مكروه تحريمي ده (٤). فقط

---

(١). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٨ ، ط. س. ج٢ ص١٣٨). ظفير

(٢). مبسوط ج٢ ص٢٢. ظفير

(٣). وګوری مصفی مسوی ج١ ص ١٥٣.

(٤). فلوخطب بالفارسية اوبغيرها جاز كذا قالوا والمراد بالجواز هو الجواز فی حق الصلاة بمعنى انه يكفی لاداء الشرطية وتصح بها الصلاة لا الجواز بمعنى الاباحة المطلقة فانه لا شك فی ان الخطبة بغير العربية خلاف السنة المتوارثة من النبی صلى الله عليه وسلم والصحابة رضي الله عنهم فيكون مكروها تحريما وكذا قراءة الاشعار الفارسية والهنديه فيها (حاشيه وقايه ج١ ص٢٤٢). ظفير

داختر او دجُمعې اجتماع: **سوال**: (۲۵۲۹) كه چيرى اختر اوجُمعه په يوه ورځ جمع سى نو بعضى خلگ وايي چي جُمعه دي نه كوي اودصحيح مسلم دروايت څخه استدلال كوي، داخبره تركمه حده پورى صحيح ده ؟ او دجُمعې لمونځ كول په كاردى اوكه نه؟

جواب: ددى حديث تفتيش مو وكى ليكن څه درك يي ونه لګيدى، بيشكه په ابوداود كي دعبدالله بن الزبير فعل نقل سويدى ليكن لږ فكر كول په كاردى چي ديوه صحابى دفعل په وجه دنبى كريم ﷺ قول اوفعل پريښوول دانصاف څخه خلاف دى دحضور ﷺ په زمانه كى هم داخبره پيښه سوى وه ليكن هغوى ﷺ داخترلمونځ اداء كړى اودكلى خلګو ته يې وويل چي كه تاسى تلل غواړى نوولاړ سى موږ به جُمعه اداء كړو، په ابوداود وغيره كي موجود دى، اودعبدالله بن زبير﷛ دفعل داتاويل علماؤ كړى دى لهذا جُمعه ضرور ادا كول پكاردى، دوهمه خبره داده چي دجُمعې لمونځ دقرآن كريم څخه ثابت دى، داديو صحابي په فعل سره ترك كول يا تخصيص كول دعقل سليم كارنه دى. فقط

په كلي كي جُمعه: **سوال**: (۲۵۳۰) په كلى كى جُمعه جائز ده اوكه نه؟ اوپه حديث شريف كى چي دحضرت على ﷛ څخه مروى دى چي: لا جمعة ولا تشريف الخ، په دى باندى عمل كول ضرورى دى اوكه نه؟

جواب: په كوچنى كلى كى جُمعه كول درست نه دى، او دحضرت على ﷛ په حديث باندى عمل كول عند الحنفية لازم دى، دجُمعې اواداء دپاره مصر شرط دى (١). فقط

ددوهم اذان څخه وروسته مناجات: **سوال**: (۲۵۳۱) دجُمعې په ورځ ددوهم اذان څخه وروسته مناجات كول څنګه دى؟

جواب: مكروه اوممنوع دى په درمختار كى دى: وينبغى ان لا يجب بلسانه اتفاقا فى الاذان بين يدى الخطيب، باب الاذان (٢)، وفى الشامى واجابة الاذان حينئذ مكروهة (٣)، اوپه حديث شريف كى دى، اذا خرج الامام فلا صلاة ولا كلام الخ (٤)، نو معلومه سوه چي دجُمعې ددوهم اذان څخه وروسته دي دعاء اومناجات په ژبې سره نه كوى. فقط

دخطبې په حالت كي بل كار: **سوال**: (۲۵۳۲) حضور ﷺ چي دخطبې په حالت كى حضرت امام حسن اوحضرت امام حسين ﷠ په پرېوتلو وليدل نوخطبه يې قطعه كړه اوهغوى يې راپورته كړل نواوس داسى كول جائزدى اوكه نه؟

---

(١). ويشترط لصحتها سبعة اشياء الاول المصر (درمختار باب الجمعه ط. س. ج٢ ص ١٣٧) ظفير
(٢). الدر المختار باب الاذان ج١ ص ٢٢٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٣. ظفير
(٣). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٧٩ ، مطلب فى حكم المرقى بين يدى الخطيب . ظفير
(٤). وګورى ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٧٧ ، ط. س. ج٢ ص ١٥٨. ظفير

جواب: دادحضور ﷺ خصوصیت دی، اویاداچی داسی حالت وی چی دماشوم دخوړیدلو اندیښنه وی نوپه داسی حالت کی اوس هم خطیب لره داسی کول درست دی، څنګه چی په درمختار کی په بعضی موقعو کی دلمانځه دقطع کولو حکم دی، ویجب القطع لنحو انجاء غریق اوحریق (۱). فقط

داسلامی بادشاه دنیستوالی په صورة کی جُمعه: **سوال:** (۲۵۳۳) په کم ځای کی چی داسلام بادشاه نه وی هلته جُمعه نه کیږی، داصحیح ده اوکه نه؟

جواب: داخیال غلط دی چی په کم ځای کی داسلام بادشاه نه وی هلته جُمعه نه کیږی، بلکه جُمعه کیږی. په شامی کی ددی تصریح موجوده ده (۲). فقط

په کلی کی جُمعه: **سوال:** (۲۵۳۴) په کلی کی دجُمعې دناجائزوالی باوجود اکثره خلګ په دی وجه سره جُمعه کوی چی دهمیشه راهیسی جُمعه کیږی، نوپه دی صورة کی دجُمعې حامیان شرعًا ماخوذ دی اوکه نه؟

۲\. یوسړی په کلیوکی دجُمعې دناجائزوالی په وجه دجُمعې دلمانځه کولو دپاره څلور میله مزل کوی اوپه یوه ولسوالۍ کی جُمعه کوی نوپه دی صورة کی څه حکم دی؟

جواب: ۱\. په کم کلی کی چی دهغه دکوچنی والی په وجه دحنفیانو په نزد جُمعه درسته نه ده، نوپه هغه کی په هیڅ خیال سره هم جُمعه کول نه دی په کار، په کتابونو کی یی لیکلی چی په داسی ځای کی دجُمعې په کولو سره (خلګ) ګنهګاریږی او دماپښین دپریښوولو ګناه هم پر هغوی باندی سته (۳).

۲\. داسی کول ښه دی چی بلی قصبې ته ولاړ سی اوجُمعه اداء کړی، په دی کی ثواب دی، اوپه حدیث شریف کی واردی چی دکلی خلګ به دجُمعې په ورځ مدینی منوری ته دلمانځه دجُمعې دپاره راتلل. فقط

---

(۱). ویباح قطعها لنحو قتل حیة (الی قوله) ویجب لاغاثة ملهوف وغریق وحریق الخ (الدر المختار باب مایفسد الصلوٰة ج۱ ص۹۳). ظفیر

(۲). والسلطان (الی قوله) والاطلاق مشعر بان الاسلام لیس بشرط وهذا اذا امکن استیذانه والا فالسلطان لیس بشرط فلو اجتمعوا علی رجل وصلوا جاز (جامع الرموز باب الجمعة ج۱ ص۱۱۲) معه انها تصح (ای الجمعة) فی البلاد التی استولی علیها الکفار کما سنذکره (ردالمحتار باب الجمعة ط. س. ج۲ ص۱۳۸) فلو الولاة کفارا یجوز للمسلمین اقامة الجمعة ویصیر القاضی قاضیا بتراضی المسلمین ویجب علیهم ان یلتمسو والیا مسلما (ایضا ج۱ ص۷۵۴ ، ط. س. ج۲ ص ۱۴۴). ظفیر

(۳). وفیما ذکرنا اشارة الی انه لاتجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر وخطیب کما فی المضمرات والظاهر انه ارید به الکراهة لکراهة النفل بالجماعة الا تریٰ انّ فی الجواهر لو صلوا فی القریٰ لزمهم اداء الظهر (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۸). ظفیر

دحضرت مولانا نانوتوی رحمه الله دجُمعې لمونځ په کلي کې: **سوال**: (۲۵۳۵) اکثره خلګ دا اعتراض کوی چې مولانا محمد قاسم ؒ اوحضرت حاجی امداد الله صاحب ؒ دجُمعې لمونځ په کلي کې اداء کړیدی، نوکه چیری داکار ښه نه وای نوهغوی به ولې کوی؟

جواب: اصل دادی چې دفقهې دمعتبرو کتابونو لکه هدایه اوشرح وقایه اودر مختار، شامي څخه داثابت دی چې دجُمعې داداء اووجوب دپاره مصر شرط دی، اوپه شامي کې یې نقل فرمایلی دی چې په ولسوالۍ اوقریه کبیره کې جُمعه اداء کیږی ځکه چې هغه هم دښار اودمصر په حکم کې ده [۱]، اوپه درمختار اوشامي کې یې داهم نقل کړی دی چې په کوچنی کلی جُمعه درسته نه ده اوپه دی کې کراهت تحریمی [۲] دی، نوکه حضرت شاه امداد الله قدس سره یاحضرت مولانا محمد قاسم صاحب قدس سره په کلي کې جُمعه کړې وی نوهغه به لوی کلی وی، اوحضرت مولانا (رشید احمد) ګنګوهی رحمه الله خلیفه دحضرت حاجی صاحب قدس سره دخپل پیر اوپیر بهائی دحالاتو څخه زیات خبر وو، دهغوی فتوىٰ به تاسی لیدلی اواوریدلی وی چې په څومره سختی سره به یې په کوچنی کلیوکې دجُمعې څخه منع فرمایله اوپه دی باره کې یې کتاب هم لیکلی دی، که چیری بالفرض دعلماؤ اختلاف هم په دی کې تسلیم سی، نوبیاهم احتیاط په ترك جُمعه فی القری کې دی، ځکه چې دمکروه کار څخه ځان ساتل دسنت اومستحب کولو څخه مقدم وی. فقط

دجُمعې دپاره دجامع جومات کیدل شرط نه دی: **سوال**: (۲۵۳۶) یوسړی په خپل تصنیف کې لیکلی دی چې: (نمبر: ۴) دجُمعې دلمانځه دپاره جامع جومات شرط نه دی؟

جواب: په دې باره کې داتفصیل دی چې بیشکه دجُمعې دپاره جامع جومات شرط نه دی، دښار په بل جومات کې یادښار په میدان کې هم جُمعه کیدی سی، لیکن دجُمعې دپاره شرط دادی چې په ښار یاولسوالۍ کې کیدل په کاردی، اوچې کم لوی کلی چې دولسوالۍ په شان وی هغه هم په دی حکم کې دی، په کوچنی کلی کې دحنفیانو په نزد جُمعه درسته نه ده [۳]، دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه په حدیث شریف کې دی، لاجمعة ولا تشریق الا فی مصر جامع، الحدیث. فقط

---

[۱]. تقع فرضا فی القصبات والقرىٰ الكبيرة التی فیها اسواق (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۸). ظفیر

[۲]. وفیما ذکرنا اشارة الی انه لاتجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر وخطیب الخ والظاهر انه ارید به الکراهة لکراهة النفل بالجماعة الا ترىٰ انّ فی الجواهر لو صلوا فی القرىٰ لزمهم اداء الظهر (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۸). ظفیر

[۳]. وتقع فرضا فی القصبات والقرىٰ الکبیرة التی فیها اسواق (الی قوله) وفیما ذکرنا اشارة ان لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر وخطیب الخ (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۸ ط.س. ج۲ ص۱۳۸). ظ

په کمزورۍ باندي جُمعه: **سوال**: (۲۵۳۷) کم سړی چی کمزوری وی اوپه دومره فاصله یا لوړ ځای باندی جامع جومات واقع وی چی هلته نه سی تللی نوهغه به جُمعه په کم ځای کی اداء کوی؟

جواب: په کم جومات کی چی جُمعه کیږی هلته دي ادا کړی، جامع جومات ته دتللو ضرورت نسته.

دخطبی په وخت کی سنت کول: **سوال**: (۲۵۳۸) دجُمعې دخطبی په وخت کی سنت کول څنګه دی؟

جواب: دخطبی په وخت کی سنت کول درست نه دی، دکم وخت څخه چی امام منبرته ورسیږی اوخطبه شروع کړی نودهغه وخت څخه لمونځ وغیره ټول منع سی، لقوله ﷺ: اذا خرج الامام فلا صلاۃ ولاکلام ([1])، فقط

په یوښار کی څوځایه جُمعه درسته ده اوکه نه؟ اوځو نورې پوښتنې؟ **سوال**: (۲۵۳۹) په ښار کی په ډیرو ځایونوکی په جُمعه کیدلو سره په ثواب کی څوڅه کمی نه راځی؟ یوازی دبی ږیری هلك په جماعت کی په شریکولو سره څونقصان نه راځی؟ په خدایی تعلیم کی تقیید دنن صبا دمدرسو (سکولونو) په شان درست دی اوکه نه؟ پرمدرسینو باندی دجرمانو قاعده په قانون سره مدللـه واضحه کړی، دمدرسینو ماهانه تنخواه اخیستل درست دی اوکه نه؟ په متعصب عالم پسی لمونځ درست دی اوکه نه؟

جواب: په یوه ښار کی په ډیرو ځایونو کی جُمعه درسته ده، په دی سره دجُمعې په ثواب کی څه کمی نه راځی، په درمختار کی دی، وتؤدی فی مصر واحد بمواضع کثیرۃ مطلقا علی المذهب وعلیه الفتوٰی الخ درمختار ([2]).

دبی ږیری هلك په جماعت کی شریکیدل درست دی، اوبی ږیری هلك که نابالغ وی او یوازی وی نوهغه هم په جماعت کی شریکول جائزدی. کذا فی الشامی ([3])، په دینی مدرسو کی که چیری انتظام اوپابندی داوقاتو وغیره په شان دانګریزی سکولونو وسی نوڅه حرج پکښی نسته، مالی جرمانه په شریعت کی درسته نه ده، البته دمدرسینو او دکارګرانو تنخواه دقاعدی مطابق وضع (پرې) کیدی سی. اومدرسینو لره عیدی وغیره

([1]). واذا خرج الامام (الی قوله) فلا صلاۃ ولا کلام الی تمامها (الدر المختار باب الجمعة ج۱ ص۱۱۳ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۸). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص۷۵۵ ، ط. س. ج۲ ص ۱۴۴ . ظفیر

([3]). یصف الرجال ثم الصبیان ظاهره تعددهم فلو واحد دخل الصف (درمختار مختصر) وکذا لوکان المقتدی رجلا وصبیا یصفهما لحدیث انس الخ (ردالمحتار ج۱ ص ۵۳۴ ، ط. س. ج۲ ص ۵۶۸ – ۵۷۱). ظفیر

اخيستل داطفالو څخه دعرف مطابق درست دى، په عالم پسى لمونځ افضله دى، اوعالم لره په دين كى متعصب كيدل په كاردى، دتعصب څخه مطلب په دين كى پوخوالى دى. فقط والله تعالىٰ اعلم

ايا دمكبر دپاره دامام اجازه ضرورى ده؟ سوال: (۲۵۴۰) دجُمعې يا داخترونو په لمانځه كى دامام داجازى څخه بغير دخپل طرف څخه په ركوع اوسجده كى په زوره تكبير ويل دپاره ددى چى نورو لمونځ گذارو ته سهولت وى جائزدى اوكه نه؟ يوعالم ويل چى دامام داجازى څخه بغير په تكبير ويلو سره دمكبر لمونځ نه كيږى، داصحيح ده اوكه غلطه؟

جواب: دلمانځه گذارو دسهولت او داطلاع په وجهى سره تكبير په زوره ويل درست دى، دامام داجازى ضرورت نسته، ديوعالم داخبره چى دامام داجازى بغير تكبير په زوره ويل مقتدى لره جائزنه دى اودهغه لمونځ په دى سره فاسديږى الخ داغلطه ده. فقط

دكمى قصبى مردم شمارى چى پنځه ويشت سوه وى په هغه كى جُمعه جائزده؟ سوال: (۲۵۴۱) ديوځاى ابادى دغدر دزمانى څخه مخكى اته نه زره وه اويو صوبه دارهم پكښى اوسيدى او تحصيل هم وو، دغدر څخه وروسته تحصيل هم موقوف سو، او كرار كرار دزمانى دحوادثو په وجه پنځه ويشت سوه خلگ پاته سويدى اومعمولى ضرورى شيان اوس هم پيدا كيږى، اويوولس جوماتونه هلته موجود دى اوپه هفته كى يوه ورځ بازار هم لگيږى اوجامع جومات اوس تياريږى، په دى صورت كى به هلته جُمعه كيږى اوكه نه؟

جواب: دكمى علاقى ذكرچى په سوال كى سوى دى په هغه كى جُمعه واجب الاداء كيږى، هلته جمع اداء كول په كاردى ولى په حقيقت كى دغه ابادى قصبه ده كه څه هم دزمانى دحوادثو په وجه اوس آبادى كمه سويده دقريه كبيره برابر اوس هم هلته ابادى موجوده ده، په شامى كى دى چى په قصباتو اوقريه كبيره كى عند الحنفية جُمعه اداء كيږى، بناءًا عليه په دغه ابادى كى جُمعه كول پكاردى [1]. فقط

دجُمعې وخت: سوال: (۲۴۲) په درمختار كى منقول دى چى دجُمعې په وخت باندى چاته اگاهى نسته، دعلماء اتفاق پردى خبره باندى سوى دى چى دماپښين په وخت كى دي دجُمعې لمونځ اداسى نو دجُمعې دلمانځه وخت كم دى؟

جواب: ددرمختار عبارت دادى چى (وجمعته كظهر اصلاً واستحبابًا) ددى حاصل دادى چى دجُمعې وخت هم هغه دى كم چى دماپښين وخت دى، سائل چى داليكلى دى چى

(۱). وتقع (الجمعة) فرضا فى القصبات والقرى الكبيرة التى فيها اسواق (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸، ط. س. ج۲ ص ۱۳۸). ظفير

په ([1]) درمختار کی یې لیکلی دی چی دجُمعې دلمانځه په وخت باندی چاته اګاهی نسته الخ، دا بالکل غلطه ده، په درمختار کی هیڅ چیری هم داسی نسته.

جُمعه چیری جائزده؟ سوال: (۲۵۴۳) لس پنځه کسان یوځای سول اوپه لس دولس میله فاصله باندی دځه کار دپاره ولاړل او په دی دوران کی دجُمعې ورځ راغله نو هلته دوی لره دجُمعې لمونځ کول په کاردی اوکه نه؟ بینوا تؤجروا

جواب: دجُمعې دلمانځه دجوب اواداء دپاره مصر یافناء دمصر شرط دی، یعنی په ښار یاولسوالۍ یالوی کلی کی جُمعه کیدی سی په کوچنی کلی اوځنګل کی چیری چی څه ابادی نه وی جُمعه نه کیږی البته که ځنګل دښار یا دولسوالۍ سره نژدی وی چی هغه د مصر په فناء کی داخل وی نوپه هغه کی جُمعه کیدی سی ([2]). فقط

دجُمعې څخه وروسته څو رکعاته سنت دی؟ اوپه کم ترتیب سره دی؟ سوال: (۲۵۴۴) دجُمعې په لمانځه کی دفرضو څخه وروسته به څلور رکعاته سنت کوی اوکه شپږ رکعاته؟ که شپږ کوی، نومخکی به دوه کوی اوکه څلور؟

جواب: شپږ ښه دی، څلور مخکی اودوه وروسته. ([3]) فقط

په کلی کی دجُمعې په لمونځ کولو سره ماپښین دذمی څخه نه ساقطیږی: سوال: (۲۵۴۵) که چیری یو سړی په کلی کی دجُمعې لمونځ اداء کړی نو دهغه دذمی څخه به دماپښین لمونځ ساقط سی اوکه نه؟ اوداسی کوونکی به ګنهګاروی اوکه نه؟

جواب: په کوچنی کلی کی دجُمعې لمونځ په اداء کولوسره ماپښین نه ساقطیږی اوداسی کول یې په درمختار کی مکروه تحریمی لیکلی دی ([4]). فقط

دابادی په زیاتوالی کی دټولو قومونو اعتبار دی: سوال: (۲۵۴۶) د: (سرسولی) کلی د ښار

([1]). والثالث وقت الظهر فتبطل الجمعة بخروجه مطلقا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٥٧). ظفير

([2]). ويشترط لصحتها المصر الخ او فناءه (درمختار ط. س. ج٢ ص١٣٧) وتقع (الجمعة) فرضا في القصبات والقرى الكبيرة التى فيها اسواق الخ وفيما ذكرنا اشارة الى انه لاتجوز فى الصغيرة التى ليس فيها قاض ومنبر وخطيب (ردالمحتار ص ٧٤٨ باب الجمعة ، ط. س. ج٢ ص ١٣٨). ظفير

([3]). وسن مؤكداً اربع قبل الظهر واربع قبل الجمعة واربع بتسليمة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب النوافل ج١ ص٢٢٠) وذكر فى الاصل واربع قبل الجمعة واربع بعدها ﷺ وذكر الطحاوى عن ابى يوسفؒ انه قال يصلى بعدها ستا ﷺ ينبغى ان يصلى اربعا ثم ركعتين (بدائع الصنائع ج١ ص ٢٨٥). ظفير

([4]). وفيما ذكرنا اشارة الى انه لاتجوز (الجمعة) فى الصغيرة التى ليس فيها قاض ومنبر وخطيب ﷺ الا ترى ان فى الجواهر لو صلوا فى القرى الصغيرة لزمهم الظهر (ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٤٨ ، ط. س. ج ٢ ص ١٣٨) وفى القنية صلاة العيد فى القرى تكره تحريما لانه اشتغال بما لايصح (درمختار) قوله صلاة العيد ومثله الجمعة (ردالمحتار باب العيدين ج١ ص٧٧٥ ، ط. س. ج٢ ص١٢٧). ظفير

ښخه اولس میله لیری دی، اودمسلمانانو مردم شماری دسړیو اوښځو دری سوه ده، په دغه کلی کی جومات هم سته، دجُمعې اواخترونو لمونځ دهمیشه راهیسی کیږی، سرکاری سکول اوډاکخانه هم سته په هفته کی دوه بازاره لګیږی لس شل دوکانونه هم سته، اونور دوولس ۱۲ کلی ددی کلی سره متعلق دی دکم مردم شماری چی دری زره (۳۰۰۰) ده اودهرقوم دخاص کلی مردم شماری پنځلس سوه (۱۵۰۰) ده، نودلته جُمعه درسته ده اوکه نه؟

جواب: دکلی په غټوالی اوکوچنیوالی کی دټولو قومونو دمردم شماری اعتبار کیږی، دکم کلی مردم شماری چی دټولو قومونو په اعتبار سره ډیره ده نوهغه غټ کلی دی جُمعه پکښی واجب الاداء کیږی ځنګه چی په شامی کی ددی تصریح ده نوکه چیری دغه کلی لوی شمارل کیږی نودفقهاؤ کرامو دتصریح مطابق په هغه کی دجُمعې اوداخترونو لمونځ درست (١) دی. فقط.

ددوو زرو ښخه په زیاته ابادی کی جُمعه درسته ده: **سوال**: (۲۵۴۷) کلی سلیم پور متصل دکلی سهنسپور سره، قریب یومیل ده، په کم کی چی جُمعه واجبه ده. اودهغه سره متصل یوه قلعه ده چی ددواړو کلیو ترمینځه باغ دی اوپنځه وخته داذان اواز راځی او ددواړو ځایونو مردم شماری څلور نیم زره ده، دسلیم پور مردم شماری دوه زره دری سوه ده، او دقلعې ابادی دوه زره دوه سوه (۲۲۰۰) ده، په سلیم پورکی دغدر ښخه مخکی تحصیل وو، اومردم شماری یی هم اوو زروته نژدی وه، لیکن دحوادثو او دانقلاب په وجه سره ابادی کمه سویده، بیاهم هرقسم ضروریات پیدا کیږی، لهذا جُمعه اواخترونه پکښی واجبیږی اوکه نه؟

جواب: سلیم پور اوس هم قریه کبیره ده اوپه قریه کبیره کی جُمعه واجب الاداء کیږی، کما صرح به الشامی، نوپه سلیم پور کی جُمعه کول پکاردی اوهمدغه شان په قلعه کی هم جُمعه کیدی سی. فقط

ددیارلس سوو په ابادی کی چی بازار وی نوجُمعه پکښی جائزه ده: **سوال**: (۲۵۴۸) زماچی اوس په کم ځای کی وظیفه لګیدلی ده، هغه مخکی څه کلی اوښارنه وو، دریل دسټیشن په وجه دلته ګودام دی، اوددری طرفونو ریل ګاډی دلته ځی راځی، دشلو دوه ویشتو کالو راهیسی سټیشن ته مخامخ دلاهور اوپیښور پرسړك باندی دوکانونه ابادسوی وه، بیادلته داسی منډۍ جوړه سوه چی لیری لیری ځایوته دی ځای ښخه دسوداګری مال لکه

---

(١). وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ (ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٤٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٨). ظفیر

غوړی، وریجی، غنم وغیره ځی، اوس په دی ځای کی کورونه ټول پاخه سوی دی او آبادی یی هم دیارلس سوه سوه هرقسم ضروریات دلته پیدا کیدی سی، اوتهانه او سرکاری سکول هم پکښی موجوددی، اوابادی ورځ په ورځ زیاتیږی، په جُمعه کی پنځه ویشت دیرش سړی جمع کیږی نودلته جُمعه کول په کاردی اوکه نه ؟

دابادی څخه لر لیری په کورکی جماعت کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۲۵۴۹) اوکم خلګ چی ددغه جومات څخه په زیاته فاصله باندی اوسیږی مثلاً ۴۰۰ یا ۵۰۰ ګزه چی داذان اواز هلته نه سی رسیدی که چیری هغوی دجومات ځای په کورکی مخصوص کړی، اوشپږ اوه کسان په جماعت سره لمونځ کوی نوایا دکور دغه مخصوص ځای به دجومات حکم ولری اوکه څنګه؟

جواب: ۱\: دکمی علاقې ذکر چی په سوال کی دی، په هغه کی جُمعه واجب اواداء کیږی نوهلته جُمعه کول په کاردی. (۱)

۲\: دکوردغه مخصوص ځای به دجومات حکم نلری (۲) لیکن که چیری هلته په جماعت سره لمونځ وسی، نودجماعت ثواب به ورته حاصل سی. فقط

مخکی ښاروو اوس یی دوه نیم زره یونیم زر ابادی ده ایاجُمعه پکښی جائزده؟ سوال: (۲۵۵۰) کم ځای چی مخکی ښار ؤ او اوس آبادی کمه سوه یونیم زر یا دوه زره خلګ پاته سوه په هغه کی جُمعه جائزده اوکه نه؟ که جائزوی نو دموجوده حالت په لحاظ سره اوکه دپخوانی حالت په اعتبار سره؟

جواب: په کم لوی کلی کی چی بازارونه وی هغه دولسوالۍ په شان وی او دمصریت نښانې په هغه کی پیدا کیږی، نوکمه علاقه چی مخکی ښار وی اواوس په هغه کی دوه نیم زره یونیم زر کسان پاته سوی وی اوبازار اودکانونه وغیره پکښی وی نوپه هغه کی جُمعه واجب ده، هغه په حقیقت کی مصردی په هغه کی دجُمعې په کیدلو کی څه تردد نه معلومیږی او دلوی کلی علامه داوی چی هغه دولسوالۍ په شان معلومیږی (۳).

دجُمعې خطبه فرض ده که سنت: سوال: (۲۵۵۱) دجُمعې خطبه فرض ده اوکه سنت؟

دخطبی په وخت کی څه قسم ذکر جائز دی او که نه؟ سوال: (۱\ ۲۵۵۲) د خطبی په وخت

---

(۱). وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸، ط. س. ج۲ ص ۱۳۸). ظفیر

(۲). ولا یکره ما ذکر فوق بیت جعل فیه مسجد بل ولا فی فیه لانه لیس بمسجد شرعا (الدرالمختار علی هامش رد المحتار، مطلب فی احکام المسجد ج۱ ص ۷۱۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۵۷). ظفیر

(۳). وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ (ردالمحتار ص ۷۴۸ ج۱ ط. س. ج۲ ص ۱۳۸). ظ

کی څه قسم ذکر جائز دی اوکه خاموش اوسیدل په کاردی؟

دجُمعې څخه مخکی سنت یی دخطبی څخه مخکی ونه کړی سول اوس څه وکړی: سوال:

(۲۵۵۳\۳) دجُمعې دلمونځ څخه مخکی چی کم څلور رکعاته سنت دی هغه پاته سول او دجُمعې دلمانځه خطبه شروع سوه نودغه څلور رکعاته به کم وخت کوی؟

جواب: \۱\: په خطبه کی فرض ([1]) مطلق ذکر دی، تردی پوری چی که چیری په قدر د الحمدلله، یاسبحان الله یی وویل، نوفرض خطبه به اداء سی، لیکن سنت دادی چی دوې خطبی دی وی، کذا فی الدر المختار وغیره وکفت تحمیدة اوتهلیلة اوتسبیحة للخطبة المفروضة مع الکراهة الخ ویسن خطبتان الخ ([2]).

\۲\ چی خطبه ویل کیږی نوپه خاموشی سره یی اوریدل پکاردی هیڅ قسم ذکر اوتسبیح اولمونځ وغیره دغه وخت نه دی پکار ، هکذا فی کتب الفقه ([3]).

\۳\ دخطبی شروع کیدلو څخه وروسته دي سنت نه کوی دجُمعې دلمانځه څخه دې وروسته وکړی، او ددوهمی خطبی په وخت کی دي هم نه کوی.

دښار څخه په یومیل فاصله کی یوه احاطه ده په هغه کی جُمعه جائزده اوکه نه؟ سوال:

(۲۵۵۴) یوه احاطه دولس میله ده اودهغه څخه په یومیل فاصله کی ښار اباد دی، نوپه دغه احاطه کی جُمعه درسته ده اوکه نه؟

جواب: که چیری دغه احاطه دښار په فناء کی شمارل کیږی نودلته جُمعه صحیح ده ([4]). فقط

دبنګال صوبی په کلیو کی جُمعه جائزده اوکه نه؟ سوال: (۲۵۵۵) ماقولکم رحمکم الله په دی مسئله کی چی په کلیو دصوبه بنګال کی جم غفیر دجُمعې لمونځ پکښی اداء کړی، صرف په دی وجه سره چی دتیری سوی زمانی دورڅو څخه هرخاص اوعام دجُمعې

([1]). خطبه دجمعی داداء دصحیح کیدلو دپاره شرط ده (یشترط لصحتها سبعة اشیاء الاول المصر الخ والرابع الخطیب فیه (الدر المختار باب الجمعه. ط. س. ج۲ ص۱۳۷). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۵۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۴۸). ظفیر

([3]). اذا خرج الامام من الحجرة ان کان والا فقیامه للصعود فلا صلاة ولاکلام الی تمامها (درمختار) قوله فلا صلاة شمل السنة وتحیة المسجد ؒ قوله لا کلام ای من جنس کلام الناس اما التسبیح ونحوه فلا یکره وهو الاصح کما فی النهایه والعنایه وذکر الزیلعی ان الاحوط الانصات ومحل الخلاف قبل الشروع اما بعده فالکلام مکروه تحریما باقسامه کما فی البدائع وقال البقالی فی مختصره واذا شرع فی الدعاء لا یجوز للقوم رفع الیدین ولا تامین باللسان جهرا فان فعلوا ذلك اثموا وقیل اساءوا، ولا اثم علیهم والصحیح هو الاول وعلیه الفتوی (رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۸). ظفیر

([4]). ویشترط لصحتها المصر او فناءه. (درمختار باب الجمعة ط. س. ج۲ ص۱۳۷). ظفیر

دلمانځه دپاره په دغه رکم کلی کی داداء کولو دپاره راتلل، اویوه ډله دعلماء احناف ددغه کلی وایی چی دحضرت امام ابو حنیفه ﷫ په نزد که څه هم په دې کی دجُمعې لمونځ روانه دی، لیکن په دی مسئله کی په تقلید دامام شافعی ﷫ په قریه کی دجُمعې لمونځ کوو، نوددوی قول څنګه دی؟ اودجُمعې لمونځ دهرخاص اوعام اودعلماؤ دموصوفی ډلی اداء کیږی اوکه نه؟ دحنفیه وو دمسلك (مطابق) جواب مدلّل تحریر وفرمایاست؟

جواب: جُمعه دحنفیه وو په اتفاق سره خاص په مصر پوری ده اوپه قریه کی جائز نه ده، کذا فی الهدایه صلوٰة الجمعة لاتصح الا فی مصر جامع اومصلی المصر ولا تجوز فی القری (۱)، اودحضرت امام ابوحنیفه ﷫ څخه دمصر په باره کی دامنقول دی چی بازار اوکوڅی اوحاکم چی دحدودو نافذ کوونکی ولری. کذافی المواهب للطرابلیسی چونکی دکفارو تسلط غالب سو اوداسلام حاکم مفقود دی، نوموجودوالی دشرط دحاکم چی نافذ کونکی وی مفقود سو، نوکه چیری مذکوره قریه مسئول عنها بازار اوکوڅی لری نوپه موجب دروایت مذکوره جُمعه اواخترونه هلته سره دوجود دشرائطو بلاشبه قائم کیدلی سی، لما فی الشمنی فلا یؤدی فی مفازة لما روی البیهقی فی المعرفة وعبد الرزاق وابن ابی شیبة فی مصنفیهما عن علی انه قال لا جمعة ولا تشریق ولا صلوٰة الفطر ولا اضحٰی الا فی مصر جامع او لمدینة ولانه کان لمدینة النبی ﷺ فی کثیرة ولم ینقل عنه ﷺ انه امر باقامة الجمعة فیها. انتهٰی اوظاهره ده چی هغه کسان چی دجُمعې لمونځ په کلیو یاباندو کی په تقلید دامام شافعی ﷫ اداء کوی، او په پنځه وخته لمانځه او دتعداد په شرائطو اوپه نورو مسائلو کی دامام شافعی ﷫ په مسلك باندی عمل نه کوی دغه ته تلفیق وایی، اودفقهاؤ کرامو په نزد باندی تلفیق باطل دی نو قول دبعضو علماء احناف په باره دجواز دلمانځه دجُمعې کی په تقلید دامام شافعی ﷫ باندی هیڅکله صحیح اودرست نه دی اودجُمعې لمونځ ددغو په نزد دحنفیه ؤ نه صحیح کیږی اونه په نزد دشافعیه ؤ. نو دماپښین دلمانځه دپرېښوولو ګناه اوقیام دجُمعې په صورة دعدم جواز کی دجُمعې پردوی باندی لازمیږی. فقط، والله تعالیٰ اعلم.

په بنګال کی چیری چی ابادیانی پیدا سوی دی جُمعه جائز نه ده: **سوال**: (۲۵۵۲) دبنګال په ملك کی بعضی مواضع متصل واقع دی اودپخوانی وخت څخه راپه دیخوا په هغه مواضعو کی جُمعه نه کیدله، اوس بعضی ملایان دبنګال وایی چی په دی دیار کی بیشکه جُمعه جائزده، خلګ دفتوٰی منتظر دی؟

(۱). هدایه باب صلوة الجمعة ج۱ ص۱۵۰. ظفیر

جواب: په کوچنی کلی کی عند الاحناف جُمعه واجبه نه ده اونه اداء کیږی، **کما فی الدر المختار المعروف بالشامی** وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر وخطیب کما فی المضمرات والظاهر انه ارید به کراهة النفل بالجماعة الا تزی انّ فی الجواهر لو صلوا فی القرٰی لزمهم اداء الظهر (١) الخ ص ٥٣٧ وفی باب العیدین من الدرالمختار: وفی القنیة صلٰوة العید فی القری تکره تحریمًا ای لانه اشتغال بما لا یصح لان المصر شرطا لصحة ﷺ قال فی الشامی: قوله صلٰوة العید ومثله الجمعة. (٢) ددی روایاتوڅخه معلومه سوه چی په قریه صغیره کی جُمعه صحیح نه ده، او دماپښین اداء لازمه ده اودجُمعې اداء کول په قریه کی مکروه تحریمی ده اوپه دیهاتو یاقریو دبنګال کی لکه څنګه چی دهغوی حال معلوم سوی دی کوچنی قریه ده، په هیڅ وجهی سره جُمعه په هغه کی صحیح نه ده. فقط

ددواړو خطبو په مینځ کی په لاس پورته کولو سره دعا غوښتل څنګه دی؟ سوال: (٢٥٥٧) ددواړو خطبو ترمینځ په لاسونو پورته کولو سره ددعاء غوښتل درست دی اوکه نه؟

جواب: ددواړو خطبو په مینځ کی که دعاء غواړی نوپه زړه کی دي وغواړی، په ژبی سره او په لاسونو پورته کولو سره دعا غوښتل په دغه حالت کی درست نه دی (٣).

دخطبی څخه مخکی دوعظ ویل څنګه دی؟ سوال: (٢٥٥٨) یومولوی صاحب دجُمعې دلمانځه څخه مخکی دسنت داداء کولو په وخت کی وعظ کوی، چی دهغه سره دسنت کولو والاوو ته تکلیف وی، نوپه داسی حالت کی سنت اداء کړو اوکه نه وعظ واورو؟

جواب: په داسی وخت کی چی دلمانځه ګذارو په لمانځه کی خلل واقع کیږی اوبعض دسنتو څخه پاته سی، وعظ کول نه دی په کار. ځکه چی فقهاء داتصریح فرمایی چی که چیری ذکر بالجهر یاپه تلاوت دقرآن کریم په جهر سره دلمانځه ګذارو په لمانځه کی څه خلل واقع کیږی نودغه شان ذکرالله وغیره کول نه دی په کار، فما ظنکم بالوعظ .... اول خو په داسی وخت کی واعظ لره هیڅ وعظ کول نه دی په کار اوکه چیری هغه وعظ نه پریږدی نو دجُمعې څخه مخکی سنت کوم چی سنت مؤکده دی (٤) هغه مه پریږدی ضروری یی وکړی.

---

(١). شامی باب الجمعة ج١ ص٧٤٨ ، ط.س. ج٢ ص ١٣٨ . ظفير

(٢). ردالمحتار باب العیدین ج١ ص ٧٧٥ ، ط. س. ج٢ ص ١٢٧. ظفير

(٣). واذا خرج الامام فلا صلاة ولاكلام الى تمامها الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج١ ص ٧٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ١٥٨). ظفير

(٤). وسن مؤكدا اربع قبل الظهر واربع قبل الجمعة (درمختار) ولهٰذا كانت السنة المؤكدة قريبة من الواجب فی لحوق الاثم ويستوجب تاركها التضليل واللوم (ردالمحتار مطلب فی السنن النوافل ج١ ص٢٣٠ ط. س. ج٢ ص١٢).

دجُمعې لمونځ فرض دی اوکه نه؟ اوخطبه یی اوریدل څنګه دی؟ سوال: (۲۵۵۹) دجُمعې دوه رکعاته فرض دی اوکه نه څه دی؟ اواوله اودوهمه خطبه فرض ده اوکه نه څنګه؟ اواوریدل یی واجب دی اوکه نه؟ اودخطبی په وخت کی خبری کول اودلمانځه کول څنګه دی؟

جواب: دجُمعې دوه رکعاته فرض (۱) دی، اوخطبه مطلقاً فرض (۲) ده، اودوی خطبی ویل سنت دی، اوټوله پوره خطبه اوریدل فرض دی (۳)، (۴)، دخطبی دویلو په وخت کی خبری کول اولمونځ کول درست نه دی واذا خرج الامام فلا صلاة ولا کلام الی تمامها (۵).

دوهم اذان به منبر ته مخامخ په جومات کی وی اوکه دباندی؟ سوال: (۲۵۲۰) دجُمعې دوهم اذان منبر ته نژدی په جومات کی کیدل ښه دی اوکه نه دجومات څخه دباندی دجومات په دروازه باندی اودسنن ابی داود دلفظ علی باب المسجد څخه څه مراد دی؟

جواب: دجُمعې دوهم اذان منبرته مخامخ په جومات کی مسنون (۲) دی اوددی تفصیل او دابوداود شریف دحدیث شریف تاویل په هغه رسالو کی موجود دی کمی چی په دی باره کی شائع سویدی هغه دي وکتل سی.

دجُمعې دلمانځه داترتیب صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۲۵۲۱) دجُمعې لمونځ په دار الحرب کی په جائز ګڼلو سره بنده په دا شان سره کوی چی دخطبی څخه مخکی څلور رکعاته سنت، دخطبی څخه وروسته دوه رکعاته فرض په جماعت سره اوبیا څلور رکعاته سنت، لیکن که چیری جومات ته په داسی وخت کی شامل سم چی خطبه شروع وی نو خطبه واورم اوبیا دوه رکعاته فرض دهغه پس مخکنی څلور رکعاته سنت اودفرضو څخه وروسته څلوررکعاته سنت اداءکم اوبس ایاهم دغه رکم جائزدی؟ که چیری نه وی نوولی؟

جواب: همدغه رکم یی کول په کاردی، داصحیح دی اوکه چیری دجُمعې دلمانځه څخه وروسته شپږ رکعاته سنت هم کوی نوښه دی.

---

(۱). هی فرض عین یکفر جاحدها لثبوتها بالدلیل القطعی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۷ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۲). ظفیر

(۲). ویشترط لصحتها الخ الخطبة فیه (ایضا ج۱ ص ۷۵۷ ، ط. س. ج۲ ص۱۴۷، باب الجمعة). ظفیر

(۳). ویسن خطبتان بجلسة بینهما (ایضا ج۱ ص۸۵۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۴۸). ظفیر

(۴). یجب علیه ان یستمع (درمختار) حیث قال اذا الاستماع فرض کما فی المحیط اوواجب الخ (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۹). ظفیر

(۵). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۸. ظفیر

(۲). ویؤذن ثانیا بین یدیه ای الخطیب الخ اذا جلس علی المنبر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص ۷۷۰ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۱ ، باب الجمعة). ظفیر

دمصر صحيح تعريف څه دی؟ سوال: (٢٥٢٢) داحنافو په نزد دجُمعې دواجبوالی دپاره خو مصر يقينًا شرط دی ليکن دمصر په تعريف کی عظيم اختلاف دی، لهٰذا ددی خبری معلومول پکار دی چی معتبر اومفتٰی به تعريف کم يودی، اوددی ماخذ څه دی؟ مدلل يی بيان وفرماياست؟ دکم کلی ابادی چی دولس سوه يقينی ده اوپنځه جوماتونه هم پکښی دی، اودکلی دخلگو ضروريات هم پکښی پيدا کيږی، او دهدايی دصاحب ددی تعريف بعينه مصداق دی چی، هذا وعنده انهم اذا اجتمعوا فی اکبر مساجدهم لم يسعهم، اودشرح وقايه دصاحب ددی تعريف هم ورسره انطباق دی، ولا يسع اکبر مساجده اهل مصره، ددی څخه علاوه چونکی په ذکرسوی کلی کی شريفان اهل علم اباد دی دهغوی په وجهی سره دخوا اوشا کليو خلگ دجُمعې دشرکت دپاره جمع کيږی، او لويه ګڼه ګوڼه جوړيږی. لهٰذا بيان دا وفرماياست چی په ذکر سوی کلی کی په بناء دتعريف دصاحب دهدايی اوشرح وقايی جُمعه جائزه ده اوکه نه؟ دناجائزوالی په صورة کی دليل داعراض عن التعريفين او دمفتٰی به قول ماخذ تحرير کړی؟ عند الله ماجور او عند الناس مشکور سئ.

جواب: دمصر داتعريف، وهو ما لايسع اکبر مساجد اهل المکلفين بها، منقوض دی، صحيح داده چی عرفادي هغه علاقه دښار يا دولسوالۍ ويل کيدلو مستحقه وی اوهغه لوی کلی چی په شان دقصبی وی اودخلګو ضرويات هلته پيدا کيږی هغه هم دمصر په حکم کی داخل دی، په شامی کی دی: وتقع فرضاً فی القصبات والقری الکبيرة اللتی فيها اسواق الی ان قال وفيما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغيرة التی ليس فيها قاض ومنبر وخطيب الخ شامی ([1]) وفی باب العيدين من الدر المختار: وفی القنية صلٰوة العيد فی القری تکره تحريمًا ای لانه اشتغال بما لا يصح لان المصر شرط الصحة الخ ([2]) درمختار، په شامی کی دی: ومثله الجمعة. ([3]) الخ نومعلوه سوه چی په کوچنی کلی کی جُمعه درسته نه ده حالانکی تعريف د: ما لايسع اکبر مساجده الخ پرډيرو کليو باندی صادق راځی، ددی وجه شامی ددی تعريف په ذيل کی نقل فرمايلی دی چی، قوله وما لا يسع هذا يصدق علی کثير من القرٰی الخ اوپر دې تعريف باندی داهم نقض وارد سوی دی چی دحرمينو شريفينو مسجد حرام اومسجد نبوی ﷺ ددی تعريف څخه خارجيږی ځکه چی هلته ما لايسع صادق نه راځی، بلکی په دغه جوماتونو کی ددغه ځای داوسيدونکو څخه ډيرزيات وسعت دی، کذافی شرح المنية

([1]). رد المحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٨ ، ط.س. ج٢ ص ١٣٨ . ظفير
([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العيدين ج١ ص ٧٧٥ ، ط. س. ج٢ ص١٢٧). ظفير
([3]). ردالمحتار باب العيدين ج١ ص ٧٧٥ ، ط. س. ج٢ ص ١٢٥. ظفير

الخ (١).

حضرت قاسم العلوم رحمه الله او دجُمعې مسئله: سوال: (٢٥٢٣) حضرت مولانا محمد قاسم صاحبؒ دقیام دصلاة جُمعه فی القرٰی دجائزوالی محقق اومصدق دی، ارشاد فرمایی ملاحظه کړی: واگر کسی دردیهی جُمعه قائم کند دست گریبانش نه زند که اول این شرط مصر بودن ظنی الخ، حالانکه داخبره دجمهورو څخه خلاف ده دتطبیق یی څه صورة دی؟

جواب: دحنفیانو مذهب معلوم اومعروف دی چی په کوچنی کلی کی جُمعه نه صحیح کیږی ځکه چی دهغو په نزد دجُمعې دپاره مصر شرط دی اوددی تحقیق اوقوی دلائل په اوثق العرٰی اواحسن القرٰی کی موجوددی، دغه کتابونه دي وکتل سی، باقی دحضرت مولانا نانوتویؒ دافرمایل چی (دست وگریبانش نه زند الخ، په دی وجهی سره دی چی چونکی دامسئله دامامانو ترمینځه مختلف فیها ده اوپه دلائلو ظنیه ؤ باندی بناء ده، ددی وجه دجُمعه فی القرٰی قائموونکی سره جنګ اوجګړه اوطعن اوتشنیع مه کوی، ځکه چی په فروعی اختلافاتو کی دمحققینو همدا مسلك وی چی نزاع اوجدال په دی کی مناسب نه دی.

په څلور زره ابادی کی جُمعه جائزده: سوال: (٢٥٢٤) دکمی علاقی ابادی چی څلور زره (۴٠٠٠) وی اودیو میل په فاصله کی ستیشن دی اودهغه په وجهی سره بازار هم قائم سویدی، تهانه اوسکول هم پکښی دی، او دبازار ابادی دری زره (۳٠٠٠) سویده، د موضع او دستیشن مجموعه ابادی اوه زره (٧٠٠٠) ده په دی صورة کی په دغه موضع کی دجُمعې او داخترونو لمونځ کول کیږی اوکه نه؟

جواب: په داسی بستی کی دجُمعې او داخترونو لمونځ واجب دی اواداء کیږی ځکه چی شامی تصریح کړیده چی په ولسوالۍ اولوی کلی کی جُمعه فرض کیږی، اودا ظاهره ده چی ذکر سوی علاقه لویه قریه ده (٢).

په کوچنی ابادی کی جُمعه جائز نه ده: سوال: (٢٥٢٥) په هندواړه کلی کی دزمیندارانو دقوم ټول نوی (٩٠) کورونه دی، نوپه داسی کلی کی جُمعه رواه ده اوکه نه ؟

---

(١). والفصل فی ذلك ان مكة والمدينة مصران تقام بهما الجمعة من زمنه ﷺ الی اليوم فكل موضع كان مثل احدهما فهو مصر الخ حتی التعريف الذی اختاره جماعة من المتاخرين كصاحب المختار والوقاية وغيرهما وهو ما لو اجتمع اهله فی اكبر مساجده لا يسعهم فانه منقوض بهما اذ كل مسجد منهما يسع اهله وزيادة الخ (غنية المستملی ٥١١). ظفير

(٢). وتقع فرض فی القصبات والقری الكبيرة التی فيها اسواق الخ (شامی باب الجمعة ج١ ص ٧٤٨ ، ط. س. ج ٢ ص ١٣٨). ظفير

جواب: په شامی کی یی دقهستانی څخه راوړی دی چی: وتقع فرضًا فی القصبات والقری الکبیرة فیها اسواق، الی ان قال: وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی فیها لیس قاض ومنبر وخطیب (١) الخ ددی عبارت څخه معلومه سوه چی په ذکر سوی کلی کی چی پکښی نوی ٩٠ کورونه دی جُمعه نه اداء کیږی، ځکه چی دا کوچنی کلی دی، نه قریه کبیره ده اونه ولسوالی ده، هذا ما علیه المحققون.

په لویه ولسوالی کی جُمعه جائز ده: **سوال**: (٢٥٢٢) په هزاره ضلع کی شنکیاری نومی یو ځای دی، چی په هغه کی څلور جوماتونه دی اوبازارونه دی، تقریبًا اتیا دوکانونه دی او تهانه، ډاکخانه، معمولی محکمی هم پکښی سته، دلویو لویو حاکمانو دتم کیدو ځای دی اودلته دجُمعې لمونځ اداء کیږی، یوصاحب په ذکر سوی موضع کی دلمانځه داداء کولو څخه مانع دی، نوپه داسی قریه کی دجُمعې دلمونځ داداء کولو څه حکم دی؟

جواب: فقهاؤ تصریح فرمایلی ده چی په قصباتو اوپه لوی کلی کی دجُمعې لمونځ فرض دی اواداء کیږی، اوداتصریح یی هم فرمایلی ده چی په کوچنی کلی کی داحنافو عالمانو په اتفاق سره جُمعه نه کیږی بلکی په کلی کی جُمعه کول ګویا نفل لمونځ په جماعت کثیره سره په دعوت ورکولو سره اداء کول دی، کم چی په اتفاق دفقهاؤ سره مکروه دی اودکلی کوچنی والی یالوی والی په مشاهدی سره، او دابادی په ډیروالی اوکموالی سره معلومیږی، په کم کلی چی دری څلور زره بنی آدم ابادوی ظاهرًا هغه لوی کلی دقصبی په حکم کی کیدی سی، اوچی ددی څخه ابادی کمه وی، نوهغه ته به کوچنی کلی ویل کیږی، په شامی کی دقهستانی څخه منقول دی، وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الی ان قال، وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر وخطیب الخ، شامی باب الجمعة، (٢) وفی باب العیدین من الدر المختار صلاة العید فی القری تکره تحریمًا ای لانه اشتغال بما لا یصح، قال فی الشامی قوله صلاة العید ومثله الجمعة (٣).

دجامع جومات پرځای دمحلی په جومات کی جُمعه کول څنکه دی؟ **سوال**: (٢٥٢٧) بعض خلګ جامع جومات پریږدی اودمحلی په جومات کی جُمعه کوی، ددی څه حکم دی؟

جواب: په یوښار کی په ډیرو ځایونو کی هم دصحیح مذهب موافق جُمعه صحیح ده، (٤)

---

(١). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٤٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٣٨. ظفیر

(٢). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٨ ، ط. س. ج٢ ص١٣٨. ظفیر

(٣). ردالمحتار باب العیدین ج١ ص٧٧٥ ، ط. س. ج٢ ص١٢٧. ظفیر

(٤). وتؤدی (الجمعة) فی مصر واحد بمواضع کثیرة مطلقا علی المذهب وعلیه الفتوی (الدرالمختار) لان جواز =

کذا فی الدر المختار وغیرہ ، لیکن بی دوجهی جامع مجسد پریښوول ښه نه دی، البته که چیری دغه (شر) فتنی وغیره اندیښنه وی، نوخیردی، کنې حتی الوسع جُمعه په یوځای جامع جومات کی کول ښه دی اودلوی ثواب موجب ده.

په کلی کی دجُمعې کولو سره به دماپښین لمونځ دذمی څخه ساقط سی اوکه نه؟ سوال: (۲۵۲۸) په کلی کی دحنفیانو په نزد جُمعه جائز ده اوکه نه؟ اوپه کلی کی به دماپښین لمونځ په جُمعې کولو سره ساقط سی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدر المختار وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر وخطیب الخ والظاهر انه ارید به الکراهة لکراهة النفل بالجماعة الا تری ان فی الجواهر لو صلوا فی القری لزمهم اداء الظهر الخ، شامی ص ۵۳۷، باب الجمعة، وفی باب العیدین من الدر المختار وفی القنیة صلوٰة العید فی القری تکره تحریما ای لانه اشتغال بما لا یصح لان المصر شرط لصحة قوله صلوٰة العید ومثله الجمعة الخ ([1]) شامی، ددی عبارتونو څخه واضحه سوه چی په کوچنی کلی کی جُمعه صحیح نه ده، اونه اداء کیږی اوکه چیری یی وکړی نو دماپښین لمونځ به ساقط نسی.

په دوه نیم زره ابادی کی جُمعه جائزده اوکه نه؟ سوال: (۲۵۲۹) په راکهیړه نومی ځای کی دمسلمانانو ابادی دوه نیم زره (۲۵۰۰) ده څلور پکښی جوماتونه دی اودرخت (کپړې) خرخونکو او دعطارانو ډیر دوکانونه دی، اودهمیشه راهیسی جُمعه کیږی، نوپه دی کلی کی جُمعه جائزده اوکه نه؟

جواب: په ظاهره داغټ کلی دی اوپه لوی کلی کی داحنافو په نزد جُمعه واجبه ده اواداء کیږی، کمافی الشامی، وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة الخ، ([2])

دبازار په شاوخوا مستقل کلی کی جُمعه جائزده اوکه نه؟ سوال: (۲۵۷۰) چهوټا نومی ځای دکمتول دبازار سره واقع دی او دبازار ابادی یی ددری څلورو زرو څخه کمه نه ده، دضرورت تمام شیان پکښی پیدا کیږی، ایاذکر سوی ځای دمصر فناء ګرځول کیدی سی اوکه نه دقرب اوجوار مسلمانان هلته ولاړ سی جُمعه اداء کړی اوکه نه په خپل خپل ځای کی یی وکړی؟ اواهل قریه په خپل موضع کی جُمعه قائمولی سی اوکه نه؟

جواب: کله چی دغه ځای په مستقل نوم سره مشهوره دی اودښار داغراضو دپاره نه دی،

= التعدد وان کان ارجح واقوی دلیلا لکن فیه شبهة قویة لانه خلافه مروية عن ابی حنیفة رحمه الله ایضا واختاره الطحاوی رحمه الله (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۵۵ ، ط. س. ج۲ ص ۱۴۴. ظفیر

[1]. ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص۷۷۵ ، ط. س. ج۲ ص۱۲۷. ظفیر

[2]. ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۸. ظفیر

نودا دمصر فناء نه ده: فالقول بالتحديد بمسافة يخالف التعريف المتفق على ما صدق عليه بانه المعد لمصالح المصر فقد نصّ الائمة على ان الفناء ما اعدّ لدفن الموتٰی ولحوائج المصر بركض الخيل والدواب وجمع العساكر والخروج للرمی وغير ذلك (رد المحتار). ([1])

په قرب اوجوار کی چی کم کوچنی کلی دی دهغه ځای اوسیدونکی دي په خپلو خپلو کليو کی دماپښين لمونځ کوی، هلته جُمعه کول درست نه دی ([2])، البته که ښار ته ولاړ سی نوهلته دي جُمعه کوی ([3]).

ايا کليوالو لره دجُمعي دپاره ښار ته راتلل ضروری دي؟ **سوال:** (٢٥٧١) دکليوالو دپاره دجُمعي دپاره ښار ته راتلل ضروری دی اوکه نه؟ اوکه چيری رانه سی نوگنهگار به وی اوکه نه؟

جواب: دښار دقرب اوجوار کليوالو دپاره دجُمعي دپاره ښارته راتلل ضروری نه دی، او په نه راتللو سره به هغوی نه گنهگاريږی. فقط

ددی عبارتونو څه مطلب دی؟ **سوال:** (٢٥٧٢) (اختلفوا فی تفسير المصر: قال فی النهايه: اختلفوا فيه فعن ابی حنيفه رحمه الله وهو ما يجتمع فيه مرافق اهله) ددی عبارت څه مطلب دی؟ (وعن ابی حنيفة رحمه الله هوبلدة كبيرة فيهاسكك واسواق ولهارساتيق) ددی عبارتونو مطلب تحرير وفرمايا ست.

جواب: کم مختلف عبارتونه چی دمصر په تعريف کی وارد دی حال دهغوی يودی، هغه داچی مصر لوی ښار ته ويل کيږی په کم کی چی دوکانونه اوبازارونه وی اوضروريات پکښی پيدا کيږی، وغيره

په کوچنی علاقه کی ديومصلحت په وجه سره هم جُمعه جائزنه ده: **سوال:** (٢٥٧٣) په يوه علاقه کی خلگ دجُمعي شوق لری ليکن دامام اعظم رحمه الله دمسلك په وجه سره د

([1]). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٩، ط. س. ج٢ ص١٣٩. ظفير

([2]). وفيما ذكرنا اشارة الى انه لاتجوز فی الصغيرة التی ليس فيها قاض ومنبر الخ الا ترٰی ان فی الجواهر لو صلوا فی القری لزمهم اداء الظهر (ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٧ – ٧٤٨، ط. س. ج٢ ص١٣٨) وفی الخانية المقيم فی موضع من اطراف المصر ان كان بينه وبين عمران المصر فرجة من مزارع لا جمعة عليه وان بلغه النداء (ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٢٢، ط. س. ج٢ ص١٥٣). ظفير

([3]). وشرط لافتراضها (ای الجمعة) اقامة بمصر (درمختار) (قوله اقامة) خرج به المسافر وقوله بمصر اخرج الاقامة فی غيره الا ما استثنٰی بقوله فان كان يسمع النداء الخ ثم ظاهر رواية اصحابنا لا تجب الا علی من يسكن المصر او ما يتصل به فلا تجب علی اهل السواد ولو قريبا وهذا اصح ما قيل فيه (رد المحتار باب الجمعة ج١ ص٧٢٢، ط. س. ج٢ ص ١٥٣). ظفير

ماپښین لمونځ دنورو ورځو په شان فرض عین ګڼي، اودجماعت سره یې اداء کوي، اوس تردد دادی چی په اتمه ورځ خو دجُمعې په خیال سره جُمعه کیږی اودمسائل وغیره ؤ څخه مستفیض کیږی، ایاکه چیری داخبره اوددین مفادپه نظرکی ونیول سی، اوجُمعه اداء کړی نو ماپښین به دذمی څخه ساقط سی، ددی ځای ابادی څلور سوه ده اوددی سره متصل بل کلی دی دکم ابادی چی دوه زره ده.

جواب: احنافو لره داامام ابوحنیفه رحمه الله تقلید کول په کاردی دخپل امام دمذهب موافق په کوچنی کلی کی جُمعه کول نه دی په کار، دماپښین لمونځ په جماعت سره اداء کول په کاردی، اوپه کم کلی کی چی څلور سوه بنی آدم ابادوی، هغه کوچنی کلی دی اوبل کم کلی چی دهغه نژدی دی اوپه هغه کی دوه زره کسان اباددی دهغه په وجهی سره به هغه کوچنی کلی غټ نه حسابیږی. په شامی اولنی جلد باب الجمعة کی دی، وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر وخطیب کما فی المضمرات الخ (۱) ، ردالمحتار شامی جلداول ص **۵۳۷**.

دمصر مفتی به تعریف څه دی اوپه هندوستان کی جُمعه جائزده اوکه نه؟ سوال: (**۲۵۷۴**)

دجُمعې اوداخترونو لمونځ په کلی کی جائزدی اوکه نه؟ اودمصر کم تعریف مفتٰی به دی، اودمسلمان قاضی یادوالی دشرط متعلق څه فتوٰی ده، اودهندوستان په ښارونو کی جُمعه واجب ده اوکه نه؟ په کمه علاقه کی چی اته زره کورونه دی هغه کلی دی اوکه ښار؟ په تقدیر دجواز دجُمعې داحتیاط الظهر ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: که چیری کلی لوی وی په شان دقصبی اوپه هغه کی بازار اودوکانونه وی نوپه هغه کی عند الاحناف دجُمعې اوداخترونو لمونځ درست دی اوفرض دی، اوکه چیری کوچنی وی نوپه هغه کی دجُمعې اوداخترونو لمونځ درست نه دی، کمافی الشامی، باب الجمعة وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الی ان قال وفیما ذکرنا اشارة الی انها لا تجوز فی الصغیرة الخ.

اودمصرپه تعریف کی اختلاف دی کم چی دفقهی په کتابونوکی مذکوردی، ددی فیصله هم دشامی په ذکرسوی عبارت سره سویده، چی ولسوالیٔ اولوی کلی شرعا مصر دی، اوکوچنی کلی مصر نه دی، دمصر په باره کی زیات تفصیل دفقهی په کتابونو کی وګوری، اوپه شامی کی داتصریح ده، چی په کمو ملکونو کی دکافرانو تسلط دی په هغه کی جُمعه صحیح ده، اودامام المسلمین نیستوالی دجُمعې دعدمِ جواز باعث نه دی

---

(۱). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ مطبوعه درسعادت ، ط. س. ج۲ ص ۱۳۸. ظفیر

بلکی مسلمانان دي خپل امام مقررکړی اوپه هغه پسی دي لمونځ وکړی. کذافی الشامی ([1]). اوپه هغه علاقه کی چی اته زره کورونه دی، یااوه اته زره بنی آدم پکښی ابادوی هغه ولسوالۍ اوښاردی اوهلته بیشکه دجُمعې لمونځ کیږی، داحتیاط الظهر ضرورت نسته.

(دمصر کم تعریف چی په شرح الوقایه وغیره کی نقل سویدی: وانهم اذا اجتمعوا فی اکبر مساجدهم لم یسعهم، ([2]) یا (ما لایسع فی اکبر الخ هذا یصدق علی کثیر من القریٰ ([3])، یعنی که چیری داتعریف صحیح ومنل سی نوپه ډیرو کوچنیو کلو باندی به هم داتعریف صادق راسی، حالانکی په هغه کی جُمعه درسته نه ده، بیا داویل سویدی چی ددی تعریف په بنیاد باندی دحرمینو شریفینو مسجد حرام اومسجد نبوی ﷺ ددی تعریف څخه خارجیږی، ځکه چی هلته، ما لایسع، (په کم کی چی ټول ښار ځائیدی نه سی) نه صادقیږی، ددی وجه چی په دغه جوماتونو کی دهغه ځای داوسیدونکو څخه زیات ګنجائش دی څنګه چی په شرح منیة کی دی، حتی التعریف الذی اختاره جماعة من المتاخرین کصاحب المختار والوقایة وغیرهما وهو ما لو اجتمع اهله فی اکبر مساجده لا یسعهم فانه منقوض بهما اذ مسجد کل منهما یسع اهله وزیادة. غنیة المستملی ص ۵۱۱. ددی وجه څخه دمتاخرینو تعریف ([4]) نه صحیح نسی ویل کیدی، تعریف باید داسی جامع وی چی په هرډول سره درست پاته سی. ظفیر)

دکم کلی ابادی چی دولس سوه ده په هغه کی جُمعه جائزده اوکه نه؟ سوال: (**۲۵۷۵**) دلته سمریا نومی یوځای دی چی ابادی یی تقریبا دولس سوه ده، په هغه کی مسلمانان دولس سوه نه دی بلکی ټول مسلمانان به اته نه سوه وی، اودلته نه بازار سته اونه ډاکخانه، او نه کچهری (عدالت) بلکی هروخت هرقسم ضرورتونه هم دلته پوره کیدی نسی، البته شپږ اووه معمولی دوکانونه وی، یودوکان دکپړی دی په هغه کی محض څه معمولی کپړه مارکین اوململ وغیره پیدا کیږی په دغه دوکان کی مال تقریبًا دپنځوسو **۵۰**

([1]). ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۴۸، ط. س. ج۲ ص۱۳۸. ظفیر

([2]). ایضا حواله بالا.

([3]). فلو الولاة کفارا یجوز للمسلمین اقامة الجمعة ویصیر القاضی قاضیا بتراضی المسلمین ویجب علیهم ان یلتمسوا والیا مسلما آه (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۵۴، ط. س. ج۲ ص۱۴۴). ظفیر

([4]). ددرمختار صاحب دمتاخرینو دتعریف دنقل کولو څخه وروسته لیکلی دی. وظاهر المذهب انه کل موضع له امیر وقاض یقدر علی اقامة الحدود کما حررناه فیما علقنا علی الملتقی (درمختار) قوله ظاهر المذهب الخ قال فی شرح المنیة والحد الصحیح ما اختاره صاحب الهدایة انه الذی له امیر وقاض ینفذ الاحکام ویقیم الحدود الخ (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸، ط. س. ج۲ ص ۱۳۷). ظفیر

(پخوانی) روپو موجود دی، اویو دوکان دحلوایی دی، اودلته صرف یوجومات دی په کم کی چی دجُمعې په ورځ شپیته اویا لمونځ گذار جمع کیږی اوپه دی موضع کی مدرسه هم سته په کم کی چی اتیا، پنځه اتیا طالب علمان اوسیږی، نوپه داسی حال کی په موضع سمریا کی دجُمعې لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟ زید وایی چی دلته برابر دمخکی څخه دجُمعې لمونځ کیږی اوس یی څه رکم پریږدو؟

جواب: دابنکاره ده چی موضع مذکور دکم ابادی چی دولسو سوو ته نژدی ده لوی کلی نه دی، بلکی کوچنی کلی دی کم چی فقهاء دقصبی په حکم کی لیکلی دی، لهذا دفقهی قواعدو اودفقهاؤ دتصریح مطابق په موضع سمریا کی دماپښین لمونځ په جماعت سره کول په کاردی جُمعه کول پکښی صحیح نه دی، څنگه چی په ردالمحتار شامی کی دی، وتقع فرضً فی القصبات والقرٰی الکبیرة التی فیها اسواق الی ان قال وفیما ذکرنا اشارة الی انها لا تجوز فی الصغیرة الخ (١).

<u>په دوه زره اته سوه ابادی کی جُمعه جائز ده او په غیر مقلدو پسی لمونځ</u>: **سوال**: (٢٥٧٢) په موضع (رابدهنه) کی دوه زره اته سوه ابادی ده اودلته ټول شیان خونه خرڅیږی، البته مرچك، مالگه، ترکاری خرڅیږی، شپاړس دوکانونه دمالگی مرچك، دگوړی او دوریجو بیل بیل موجوددی، په یوه ځای باندی دبازارپه شکل کی نه دی، څلور پکښی جوماتونه دی اوپه دوو جوماتونوکی جُمعه کیږی، اوس تاسی وفرمایاست چی دا دبازار حکم لری اوکه دکلی؟ او دحنفیانو لمونځ په غیر مقلدینو پسی کیدی سی اوکه نه؟

جواب: ستاسی دتحریرڅخه معلومه سوه چی په موضع رابدهنه کی تقریبًا دری زره خلگ اباددی، دبنده په خیال کی دالوی کلی دی، اوپه شامی کی یی لیکلی دی چی په لوی کلی کی جُمعه واجبه اواداء کیږی عبارت یی دادی، وتقع فرضا فی القصبات والقرٰی الکبیرة التی فیها اسواق الخ، (٢) که څه هم په ذکرسوی موضع کی بازار نسته، لیکن دابادی په اعتبار سره یی دولسوالۍ سره ملحق کولی سو، اودحنفیانو لمونځ په غیر مقلدینو پسی کیږی لیکن احتیاط ښه دی، فی الواقع ترڅومره پوری چی کیدی سی دا خلگ امامان جوړول نه دی په کار. (٣) فقط والله تعالٰی اعلم

---

(١). ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٨، ط. س. ج٢ ص١٣٨). ظفیر

(٢). ومخالفا کشافعی لکن فی وتر البحر ان یتقن المراعات لم یکره اوعدمها لم یصح وان شك کره (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج١ ص ٥٢٢، ط. س. ج١ ص ٥٢٢ – ٥٢٣). ظفیر

(٣). وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیره التی فیها اسواق (الی قوله) وفیما ذکرنا اشارة الی انها لا تجوز فی الصغیرة (ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٤٨، ط. س. ج٢ ص١٣٨). ظفیر

په يونيم زر ابادۍ کې دجُمعې څه حکم دی: **سوال**: (٢٥٧٧) په کمه علاقه کې چې هندوان اومسلمانان ټول تقريباً يونيم زروی اودری جوماتونه اوپاخه عمارتونه هم وی اوپه هفته کې بازار هم لګيږی اولس پنځه معمولی دوکانونه هم وی اواکثره شيان لکه غله اوکپړه اودوايي وغيره نه سی پيدا کيدی، نوپه داسی قريه کې دجُمعې لمونځ اداء کيدی سی او که نه؟

جواب: دجُمعې دوجوب اوعدم وجوب مدار فقهاؤ دکلی لوی اوکوچنی کيدل ليکلی دی، اولوی کلی هغه دی کم چې دولسوالۍ په شان وی دهغه ابادی دری څلور زره وی او بازار پکښې وی، نوذکر سوی کلی دابادی په اعتبار سره لوی کلی نه معلوميږی، لهذا ضروری ده چې هلته دماپښين لمونځ په جماعت سره کوی (١).

دجُمعې څخه وروسته څو رکعاته سنت دی؟ **سوال**: (٢٥٧٨) دجُمعې دلمانځه څخه وروسته سنت څورکعاته دی؟

جواب: حنفی فقهاء دجُمعې دلمانځه څخه وروسته څلور رکعاته سنت مؤکد ليکی، اوپه بعضو رواياتوکی شپږرکعاته راځی. لهذا احتياط دادی چې شپږ رکعاته کوی کنی څلور ضرور کوی (٢).

دقريه کبيره دپاره دابادۍ څخه څه مراد دی؟ **سوال**: (٢٥٧٩) قريه کبيره يی دڅلور زره خلګو ابادی ليکلی ده، ددی څخه مراد خانه شماری (دکورونو حساب) ده اوکه نه مردم شماری (دانسانانو او بنی آدمو) ده؟

جواب: مراد ورڅخه مردم شماری ده، يعنی چې ددغه کلی ټول اوسيدونکی خلګ لوی واړه، سړی اوښځې، هندوان مسلمانان چې دری څلور زره وی، نوکم کلی چې دغسی وی هغه لوی کلی دی، اوپه لوی کلی کی فقهاوو جُمعه فرض ليکلی ده، کمافی الشامی، وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبيرة الخ (٣). فقط

په خطبه کی دحضور ﷺ پرنامه باندی درود ويل په کاردی اوکه نه؟ **سوال**: (١\ ٢٥٨٠) په خطبه کی چې کله دحضور ﷺ نوم مبارك راسی نو اوريدونکی به درود وايی اوکه نه؟ پټ به يی وايی اوکه نه په جهر سره؟ اوکه نه بيخی به يی نه وايی؟

مقتديان ددواړو خطبو په مينځ کی دعاء غوښتلی سی: **سوال**: (٢٥٨١\٢) اوچی کله امام ديوی خطبی ويلو څخه وروسته کښينی نو هغه وخت مقتديان د لاس په پورته کولو سره

---

(١). وسن الخ قبل الظهر والجمعه وبعدها اربعة بتسليمة (شرح وقايه باب الوتر والنوافل ج١ ص ٢٠٠) . ظفير

(٢). ردالمحتار باب الجمعة ص ٧٤٨ ، ط. س. ج٢ ص١٣٨. ظفير

(٣). ايضا حواله بالا . ظفير

دعاء وغواړی اوکه نه په زړه کی یی وغواړی اوکه بالکل دي ونه غواړی؟

جواب: ۱. په درمختار کی یی لیکلی دی: والصواب انه یصلی علی النبی ﷺ عند سماع اسمه فی نفسه وقال فی الشامی وکذا اذا ذکر النبی ﷺ لا یجوز ان یصلوا علیه بالجهر بل بالقلب وعلیه الفتوٰی الخ، ددی دواړو عبارتونو حاصل دادی چی کله په خطبه کی دحضور ﷺ نوم مبارك واوری نوپه زړه کی دي درود شریف ووایی جهراً دي نه وایی او په ژبی سره دي هم نه وایی، په زړه کی دي خیال وکړی. فقط

جواب: ۲. اوپه کم وخت کی چی خطیب ددواړو خطبو په مینځ کی کښینی، نوهغه وخت دي سامعین په ژبی سره دعاء نه غواړی، اوکه غواړی یی نوپه زړه کی دي وغواړی، فقط. والله تعالیٰ اعلم

(۱) وبتوفیق الله اقول دشامی دحاشیه دعبارت څخه هم همدا واضح کیږی چی که چیری دعاء غواړی نوپه زړه کی دی وغواړی اوپه ژبه دی نه غواړی، لیکن په شرح منیه کی دی، اذا قرأ الامام ان الله وملئکته یصلون علی النبی، الآیة، فعن ابی حنیفة ومحمد رحمهما الله انه ینصت وعن ابی یوسف رحمه الله انه یصلی سراً وبه اخذ بعض المشائخ، ددی څخه معلومیږی چی دطرفینو مسلك دادی چی خاموش دي اوسیږی اودامام ابویوسف رحمه الله قول دادی چی په کرار دي ووایی اوشامی دمعراج څخه نقل کوی چی په زړه کی دي دعاء وغواړی، چی ددی ماحصل سکوت دی ځکه چی په سرا کی په ژبی سره دلفظ اداء کول ضروری دی، لهذاکه چیری څوك په ژبی سره هم درود شریف په کرارسره ووایی نوپر هغه باندی نکیر نه سی کیدلی، ځکه چی امام ابویوسف رحمه الله اوبعض مشائخ ددی اجازه ورکوی، لیکن په عباداتو کی دامام صاحب رضی الله عنه دمسلك په لحاظ لرلو سره سکوت ته ته ترجیح ده. فقط

دجُمعې ددوهم اذان په باره کی بحث: **سوال**: (۲۵۸۲) دجُمعې په ورځ چی په ټولو جوماتونو کی دخطبی څخه مخکی کم دوهم اذان کیږی نودا دمحدثینو په نزد مکروه معلومیږی، په کتاب المدخل کی یی په ډیر مد وشدّ سره مکروه لیکلی دی، اوما عاجزه هم دفقهاؤ په قول باندی خاص منبرته نژدی بالتصریح لیکلی نه کی پیدا، دبین یدیه لفظ لیکل سویدی ددی په مطابق که چیری مخامخ دجومات په مناره باندی یا دجومات په احاطه کی اذان وسی نوڅه حرج دی؟

(۱). دامام ابویوسف رحمه الله روایت دی، اودطرفینو دروایت په سلسله کی دالصواب او د: لایجوز لفظ استعمال سویدی، په عباداتو کی علی الاطلاق فتوٰی دامام صاحب رحمه الله پرقول باندی وی، عمل به په اصل جواب باندی کیږی، ددی دتفصیل او درجعت ضرورت نسته. ظفیر

جواب: دفقهي په كتابونو كي په دي باره كي ارقام فرمايي: ويؤذن ثانيا بين يديه اي الخطيب، په درمختار، شامي كي دي، ويؤذن ثانيًا بين يديه اي على سبيل السنة كما يظهر من كلامهم، نوكله چي حنفي فقهاء دخطيب په مخكي اذان ته سنت وايي، نودغير اهل مذهبو دتحرير په وجه په دي كي تذبذب كول درست نه دي. اودبين يديه لفظ خوهم هغه وخت صادق راځي، چي دامام مخ ته مؤذن اذان ووايي. وهذا هو المتوارث. فقط

دجُمعې په باره كي دوي ډلي او دهغو تصفيه: **سوال**: (۲۵۸۳) دجُمعې دلمانځه څخه وروسته داحتياط الظهر كوونكي دوي ډلي دي يوه ډله جُمعه فرض بالكل نه مني او احتياط الظهر هم كوي اوجُمعې ته محض شعائر اسلام وايي، اودوهمه ډله جُمعه خو فرض ګڼي ليكن احتياط الظهر هم كوي اوس داخبره دپوښتني قابله ده، چي په دي دواړو فريقينو پسي دهغه سړي لمونځ څوك چي جُمعه فرض مني اواحتياط الظهر نه كوي، وبه سي اوكه نه؟ اوپه كمي ډلي پسي به كيږي اوپه كمي پسي به نه كيږي؟ اقتداء دقوي په ضعيف دواړو فريقينو پسي لازمه راځي اوكه نه په يوه فريق پسي؟ فقط بينوا تؤجروا.

جواب: كمه فريقه چي جُمعه فرض نه ګڼي هغه په صريحي غلطي باندي دي اوخطاء كار دي، په درمختاركي دي، فرض عين يكفر جاحدها لثبوتها بالدليل القطعي كما حققه الكمال ([1])، يعني جُمعه فرض عين ده ددي دفرضيت منكر كافردي، ځكه چي دجُمعې ثبوت په دليل قطعي سره دي لكه څنګه چي الشيخ كمال الدين بن همام رحمه الله ددي تحقيق كړيدي دي، اوشامي دابن همام رحمه الله داقول نقل كړي دي، چي موږ دجُمعې دفرضيت په ثابتولو كي تطويل ددي دپاره وكي چي بعضي جاهلان داوايي چي دجُمعې فرضيت په حنفي مذهب كي نسته. الخ

وګوري علامه موصوف هغه سړي ته جاهل فرمايلي دي څوك چي دجُمعې دفرضيت قائل نه وي، اودجُمعې دفرضيت څخه دانكار كوونكي داقول چي داسلام بادشاه نسته ځكه جُمعه نسته، نوداهم دحنفي مذهب څخه دده جهالت دي ځكه چي په درمختاركي تصريح ده چي داسلام دبادشاه دنستوالي په صورة كي چي عام مسلمانان څوك دجُمعې وغيره دپاره متعين اومقرر كړي نوكافي ده، هغه عبارت دادي، امامع عدمهم فيجوز للضرورة، اوپه شامي كي دي، فلو الولاة كفارا يجوز للمسلمين اقامة الجمعة ويصير القاضي قاضيًا بتراضي المسلمين الخ. شامي ج۱ ص ۷۵۴.

---

(۱). شامي ط. س. ج۲ ص۱۳۲. ظفير

غرض داچې کم سړي دجُمعې دفرضوالی قائل نه دي په هغه پسی لمونځ صحیح نه دی اوکم سړي چې دجُمعې دفرضیت قائل دی اواحتیاط الظهر کوی په هغه پسی لمونځ درست دی، که څه هم حقه خبره داده چې په ښار اوقصبو اوپه هرلوی کلی کی چې جُمعه کیږي، هلته داحتیاط الظهر حاجت نسته، بلکی دفقهی په کتابونو کی یی لیکلی دی چې په داسی ځایونوکی (چې جُمعه پکښې جائزه وی) احتیاط الظهرمه کوی، ددی دپاره چې چاته دجُمعې دعدم فرضیت شبهه اوخیال رانه سي، په درمختار کی یی دصاحب بحر فتوٰی داسی نقل کړیده، وفی البحر: وقد افتیت مرارًا بعدم صلوة الاربع بعدها بنیة اخر ظهر خوف اعتقاد عدم فرضیة الجمعة وهو الاحتیاط فی زماننا الخ ([1])، لیکن ددی هرڅه باوجود که چیری یوسړي دجُمعې دفرضیت قائل وی اواحتیاط الظهرکوی نولمونځ په هغه پسی صحیح دی. فقط

<u>په کلی کی جُمعه جائزده اوکه نه؟</u> سوال: (٢٥٨۴) په کلی کی جُمعه جائز ده اوکه نه؟ او دجواز اودعدم جواز شرائط څه دي؟ په کم یوکلی کی چې داختر لمونځ کیږي هلته جُمعه جائزده اوکه نه؟ دجُمعې اوداختر په شرطونو کی څه فرق سته اوکه نه؟ که چیری وی نو څه دی دکم کلی ابادی چې څلور نیم سوه ته نژدی وی اومالیت یی لك ته نژدی وی، اود ټولو مذهبونو خلګ پکښې وی لیکن مسلمانان زیات وی، دکورنی ضروریاتو ټول شیان پیداکیږي نوپه داسی کلی کی جُمعه جائزده اوکه نه؟ دایت اودحدیث مطابق مو خبرکی، دمصر حال اودا چې مصر څومره ابادی ته وایی؟ دمصر شرطونه څه دی، مفصل تحریر وفرمایاست؟

جواب: په کوچنی کلی کی دکم ابادی چې زر دوه زره (٢٠٠٠) بنی آدمان هم نه وی دحنفیانو په نزد پکښې جُمعه جائزنه ده، دجُمعې داداء او دوجوب دپاره عند الحنفیة مصر شرط دی، اومصر ښار او ولسوالیٔ ته وایی چیری چې بازارونه اوکوڅې وی اوهر قسم دوکانونه وی، اولوی کلی ته هم دمصر حکم ورکول سویدی لیکن په پوښتل سوی صورة کی چې دکم کلی ذکردی چې په هغه کی صرف څلورنیم سوه (۴۵٠) ابادی ده، نودا کوچنی کلی دی، په دی کی جُمعه درسته نه ده اوپه کم کلی کی چې جُمعه درسته نه ده په هغه کی اخترهم درست نه دی، دجُمعې اوداختر دوجوب اواداء شرائط یودی څه فرق پکښې نسته. هکذا فی الدر المختار وغیره، نو دلته داختر لمونځ کول نه دی په کار، اونه جُمعه کول په کاردی دماپښین لمونځ په جماعت سره کول په کاردی، دحنفیانو

([1]). شامی ط. س. ج٢ ص١٣٧. ظفیر

مذهب هم دادی، څنګه چې دفقهې په تولو کتابونو کې مذکور دی. فقط

قال العلامة الشامی ناقلا عن القهستانی وتقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق (الی ان قال) وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة الخ، شامی جلد اول. وقال فی الدر المختار: تجب صلوتهما فی الاصح بشرائطها المتقدمه الخ .

(الدر المختار علی هامش ردالمحتار جلداول ص ۷۷۴ ، ط. س. ج۲ ص۱۳۴).

جُمعه په کلی کې: **سوال**: (۲۵۸۵) په کوچني کلي کې جُمعه جائزده اوکه نه؟ اوپه هغه ځای کې چې سلطان یانائب دسلطان نه وی جُمعه رواه ده او که نه؟ اودقریه تعریف بیان کړی؟

جواب: په کوچنی کلی کې دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد باندی اقامت دجُمعې روا نه دی، اوددی تحقیق اوتفصیل دفقهې په کتابونو وغیره کې مبسوط دی په هغه کتابونو کې دی وکتل سی اوپه لوی کلی چې بازار اوکوڅې په هغه کې وی جُمعه اداء کیږی پکښی، کما صرح به الشامی، اوپه تعریف کې هم هغه قول معتبر دی چې بازار او کوڅې پکښی وی اومقام عادت دحکامو وی. اوپه حقیقت کې دښار اودقریه تعریف حاجت دبیان نه لری، هغه چې عرفا هغه ته ښار ویل کیږی ښاردی اوهغه ته چې قریه ویل کیږی قریه ده، لیکن دا اندازه ده چې ولسوالۍ اولوی کلی په حکم دښارکې دی، اود جُمعې اقامت په هغه کې جائزدی، که بادشاه یانائب دبادشاه نه وی په ښارونو کې جُمعه واجبه ده. کماصرح به الشامی په دغه ځای کې دي مسلمانان امام مقرر کړی داهم کافی دی. شامی جلد اول باب جُمعه باید وکتل سی، اوپه ښاریو اوقصباتو اوپه لویو کلیوکې دجُمعې اقامت په هغوی کې واجب دی، او داحتیاط الظهر ضرورت نه سته اوصاحب ددرمختار دبحر فتوٰی دعدم جواز داحتیاط الظهر نقل فرمایلی ده، همدغه احوطه ده. فقط والله تعالی اعلم. مفتی مدرسه

دجُمعې بحث په سوال اوجواب کې: **سوال**: (۲۵۸۶) ددین عالمان په دی مسئله کې څه فرمایی چې په ارکان ضلع کې په غربی جنوبی جانب کې یومحکمه ده اوپه شرقی شمال جانب کې یولوړ غردی اوتول کلی په داشان واقع دی چې هریو کلی دبل کلی څخه جلا جلا دی، دکلیو ترمینځ نیم میل، پاوکم میل، یومیل، یونیم میل فاصله ده اویو ځای یو ځای دباغونو فاصله ده، په هره کلی کې مردم شماری دوه نیم زره یونیم زر اوددی څخه کمه یازیاته وی، اوددغه محکمی په بعضو حصو کې منصفی، تهانه، ډاکخانه، بازار، عربی مدرسه اوسرکاری سکول وی لیکن دائمی بازار پکښی نسته، اوس ګذارش دادی چې دمنصفی داتحاد په وجهې سره تولی محکمی ته متحده ویل کیدی سی اوکه نه؟ که

چیری متحده وی نوپه هر کلی کی جُمعه جائزده اوکه په خاص حصه کی به جائزوی؟ که چیری جائزنه وی نوولی به نه وی، کله چی ددر مختار صاحب کم تعریف کړی دی، هغه تعریف باندی صادق راځی، اوکه چیری دغه تعریف تسلیم نه سی نودشامی وغیره چی کم یوتعریف کړی دی هغه تعریف دی ولی قابل تسلیم وی، اودائمه ثلاثه وو دمذهب مطابق دجُمعې دجواز فتوٰی حنفی مذهب دضرورت په وجهی سره ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق! حنفی مذهب دجُمعې په باره کی دادی چی په مصر یعنی ښارکی واجبیږی، اوپه کوچنی کلی کی نه واجبیږی، اوپه ولسوالۍ اولوی کلی کی هم په کم کی چی بازار اودوکانونه وغیره وی، دمصر په حکم کی دی، هلته هم جُمعه درسته ده. کماصرح به الشامی، نوځان ځان ته علاقی دکمو ترمینځ چی دباغونو وغیره وو فاصله ده، اودهغه نومونه بیل بیل دی دغه ټول کوچنی کلی دی په هغه کی جُمعه درسته نه ده اودمنصفی داتحاد په وجه سره دغه ټول کلی دبازار په حکم کی نه سی کیدلی البته په دوی کی چی کم ځای اوکلی داسی وی چی په هغه کی ابادی کم از کم دوه زره بنی آدمان وی اوپه هغه کی بازار اودوکانونه وی اوعرفا هغه ښار یا ولسوالۍ یالوی کلی ګڼل کیږی نوپه هغه کی جُمعه صحیح ده، ددرمختار دصاحب دا تعریف، ما لا یسع اکبر مساجد اهل المکلفین بها، بیشکه اوسع دی اوددی په باره کی شامی لیکلی دی، هذا صدق علی کثیر من القرٰی، لیکن داتعریف دظاهر الروایة څخه خلاف دی، بل داچی دامخدوش دی ځکه چی دکوچنی څخه پرکوچنی کلی اوپر کوچنی علاقه باندی هم کله کله صادق راتللی سی، اوکله پرلوی ښار باندی هم صادق نه راځی څنګه چی صاحب دشرح منیه فرمایلی دی چی په حرمینو شریفینو باندی داتعریف صادق نه راځی ځکه چی دلا یسع اطلاق نسی راتللی بلکی همیشه جوماتونه خالی اوفارغ پاته کیږی، په هر حال ددی هرڅه باوجود په کم ځای کی چی ددرمختار داتعریف صادق راسی اوډیرو فقهاؤ دفتواوو پربنا باندی په هغه ځای کی جُمعه وسی نوګنجائس سته، کما فی الدر المختار وعلیه اکثر الفقهاء. فقط

<u>دخطبی شروع کیدلو څخه وروسته سنت کولی سی اوکه نه؟</u> سوال: (۲۵۸۷) دخطبی دشروع کیدلو څخه وروسته سنت کول څنګه دی؟

جواب: دخطبی دشروع کیدلو څخه وروسته سنت مه کوی، نه داولی خطبی په وخت کی او نه ددوهمی خطبی په وخت کی، کما جاء فی الروایات اذا خرج الامام فلا صلاة ولا کلام. (۱) فقط (رواه الطبرانی فی معجمه عن ابن عمرؓ مرفوعًا کما فی فتح الباری).

---

(۱). وګوره : ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۱۵۸. ظفیر

په آیت صلوا علیه وسلموا باندې په اواز سره درود ویل څنګه دي؟ سوال: (۱\۲۵۸۸) ددې ځاې په مسلمانانو کې دادستور دی چې په خطبه کې کله امام آیت، یا ایها الذین امنوا صلوا علیه وسلموا تسلیما، الآیة، ووایي نوټول مقتدیان درود شریف په زوره وایي، نو دا جائز دی اوکه نه؟

دخطبې داذان جواب اودهغه څخه وروسته دعاء: سوال: (۲\۲۵۸۹) دخطبې داذان جواب ورکوي اوداذان دختمیدلو څخه وروسته دعاء کوي، داجائز دی اوکه نه؟

دسنتو ختمیدلو څخه وروسته اجتماعي دعاء بدعت ده: سوال: (۳\۲۵۹۰) دلمانځه دختمیدلو څخه وروسته کله چې امام دسنتو څخه فارغه سی نوپه زوره زوره سره دعاء غواړي اوکم مقتدیان چې فارغه سوي وی دهغوی سره په دعاء کی شریکیږی دادعاء کافي اوږده وی اودا ضروری ګڼی. ددې پورته ذکرسوو امورو څه حکم دی؟

جواب: ۱\. داجائزنه دی بلکې دفقهې په کتابونو کې لیکلي دي چې په دغه وخت کې دي درود شریف په زړه کې وایي په ژبه دي نه وایي (۱). لا یصلوا علیه بالجهر بل بالقلب. شامی ص **۸۵۷**.

۲\. داهم جائزنه دی، قال فی الدر المختار، وینبغی (۲) ان لا یجیب بلسانه اتفاقا فی الاذان بین یدی الخطیب (ج ۱ ص ۳۷۱، ط. س. ج۲ ص **۳۹۹**).

۳\. داطریقه هم دسنتو څخه ثابته نه ده لهٰذا دابدعت دی، دادي ترك سی دبدعت په مذمت کې په کثرت سره احادیث وارد دي، اوقبح ددې ظاهردی، اوپه کم کارسره چې دلمانځه ګذارو په لمانځه کې خلل راځي فقهاء هغه منع لیکي، نواصرار کول دبدعت په یوکار باندې نهایتی مذموم دی ،قال ﷺ کل بدعة ضلالة الحدیث، وقال ﷺ من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد، الحدیث. فقط والله تعالیٰ اعلم

---

(۱). وکذالك اذا ذکر النبی ﷺ لا یجوز ان یصلی علیه بالجهر بل بالقلب وعلیه الفتوٰی رملی (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۲۸، ط. س. ج۲ ص۱۵۸). ظفیر

(۲). ولا تلتفت الی ما فی باب الجمعة من عمدة الرعایة وحاشیة الهدایة للفاضل اللکهنوی من قوله فلا تکره اجابة الاذان الذی یؤذن بین یدی الخطیب وقد ثبت ذلك من فعل معاویة رضی الله عنه فی صحیح البخاری رحمه الله فان الطبرانی فی معجمه کما فی فتح الباری روی عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعا اذا خرج الامام فلا صلاة ولا کلام الحدیث والکلام بعمومه لکونه نکرة واقعة تحت النفی شامل لاجابة الاذان بین یدی الخطیب ایضا ولا یعارضه فعل معاویة رضی الله عنه لانه کان اماما کما فی البخاری ایضا وجاز للامام ان یجیب بلسانه وحدیث ابن عمر رضی الله عنه ورد فی حق المؤتمین ومنعوا عن الکلام عند خروج الامام من المنزل او المقصورة فخروجه مانع للسامعین عن الکلام لا الامام فانه المتکلم علی المنبر وهو خارج عن حدیث ابن عمر رضی الله عنه وداخل فی حکم حدیث معاویة رضی الله عنه فلا تعارض کما لا یخفی، والفرق بین ابن عمر وبین معاویة رضی الله عنه معلوم مثبت فی موضعه. هذا، وللتفصیل موضع اٰخر.

په کلیو کې جُمعه: سوال: (٢٥٩١) اکثره مسلمانان ددې علاقې په کلیو کې استوګنه کوي. په هرکلي کې دوه درې زره بنیادمان وي، لیکن په هرجامع جومات کې دشلو او د پنځه ویشتو کسانو څخه زیات نه حاضریږي، ځکه چې په دې علاقو کې په یوه کلي کې ډیر جوماتونه دي، په داسې کلي کې دجمع لمونځ کول په کاردي اوکه نه؟ احتیاطاً د ماپښین لمونځ کول په کاردي اوکه نه؟ اکثره کلي دیو بل سره پیوست دي، که چیرې په نوم یې فرق نه وي نویو کلي یې بللې سوو په داسې حال کې به داقسم متصل کلي یو موضع شماروی اوکه نه متعدد؟

جواب: که چیرې کلي غټ وي نو دجُمعې لمونځ پکښې صحیح دی، په شامي کې دقهستاني څخه منقول دي، وتقع فرضا في القصبات والقرى الكبيرة التي فيها اسواق ج١ ص ٧٤٨ ؒ اواحتیاط الظهر هلته جائزنه دی، او که چیرې کلي کوچنی وي نوجُمعه هلته مه کوي دماپښین لمونځ پکښې په جماعت سره اداء کوي. په نوم بدلیدلو سره کلي بیلیږي. فقط، کتبه رشید احمد بلند شهری، الجواب صحیح: بنده عزیز الرحمٰن عفی عنه

دامساء په تکیه اوپه منبر خطبه ولې مسنون ده؟ سوال: (٢٥٩٢) کله چې دمنبر جوړیدلو څخه وروسته پرامساء باندې په تکیه کولوسره خطبه ویل منقول نه دي نوداسنت ولې دی؟

جواب: کله چې حضور ﷺ پرلکړه باندې په تکیه کولو سره خطبه وویله نوسنت سوه (١). دیوشي دسنت والي دپاره مواظبت شرط نه دی، اوپه کم سنت باندې چې همیشه والي وسي هغه سنت مؤکد سي. الجواب صحیح عزیز الرحمٰن عفی عنه

دخطبې په وخت کې داذان څخه مخکې دا کلمات ویل څنګه دي؟ سوال: (٢٥٩٣) دخطبې داذان څخه مخکې، استووا رحمکم الله، ویل څنګه دي؟

جواب: دخطبې په وخت کې چې کم اذان دخطیب مخ ته کیږي دهغه په شروع کې ددې لفظ ویلو ضرورت نسته، البته که چیرې امام دتکبیر تحریمه په وخت کې داسې ووایي نوبدیت یې نسته. فقط

جُمعه په کم ځای کې جائزده؟ دمصر تعریف څه دی؟ اوپه سرهندکې دجُمعې څه حکم دی؟

---

(١). قال في الدر المختار في رواية ابي داود، انه ﷺ قام اى في الخطبة متوكئا على عصا اوقوس اه ونقل القهستاني عن عيد المحيط ان اخذ العصا سنة كالقيام ج١ ص٧٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ١٢٣) فقط ...، (او په مسلم جلد ٢ ص ٤٠٥ کې په حديث ذكر الدجال کې دی:) فلما قضى رسول الله ﷺ صلوته قعد على المنبر (الى) وطعن بمخضرته في المنبر هذه طيبة هذه طيبة الحديث، ددې حدیث څخه دمنبر دجوړیدلو څخه وروسته په لاس مبارك کې په لکړه اخیستلو سره په منبرباندې خطبه فرمایل ثابت دي.

سوال: (۲۵۹۴) په حنفی مذهب کی جُمعه په کم ځای کی جائزده؟ مصر څه ته وایی اوڅه شرائط یی دی؟ مجدد الف ثانیؒ چی کم ځای دفن دی هلته یی جُمعه کړیده آیا هلته جُمعه جائز ده اوکه نه؟

جواب: دحنفیانو مذهب کم چی دحنفی فقهی په ټولو کتابونو کی مذکور دی هغه دادی چی دجُمعې داداء کیدلو او واجبوالی دپاره مصر شرط دی، اومصر وایی ښار ته. او ولسوالۍ اولوی کلی هم دښار په حکم کی دی کذا فی الشامی. نو خلاصه داده چی په کوچنی کلی کی جُمعه نه کیږی هلته دماپښین لمونځ په جماعت سره کول په کاردی، هلته داحتیاط الظهر ضرورت نسته.

په کم ځای کی چی دحضرت مجدد الف ثانی ﷫ مزاردی هغه دسرهند ښار سره متعلق دی، لهذا هلته جُمعه درسته ده، که چیری کلی کوچنی وی اودوکانونه وغیره هلته نه وی نوجُمعه کول په کارنه دی. اوکه چیری دوکانونه اوبازار موجودوه نوجمع کول په کاردی. بیاوایم چی که چیری حضرت مجدد صاحب ﷫ بالتصریح اوبالتخصیص په ذکرسوی ځای کی جُمعه جائز فرمایلی وی، نوهلته جُمعه کول په کاردی، ځکه چی داضروری ده چی هغه وخت به هلته دجُمعې شرائط پیدا سوی وی، اوس دجُمعې دپرېښوولو هیڅ څه وجه نه سته. فقط والله وتعالی اعلم، مفتی مدرسه.

دخطبی په وخت کی اعوذ بالله اوبسم الله پټه ولی وایی؟ **سوال**: (۲۵۹۵) دخطبی په شروع کی اعوذ بالله اوبسم الله ولی په پټه وایی؟

جواب: په زور (جهراً) داعوذ بالله اودبسم الله ویل په دی ځای کی ثابت نه دی (۱). فقط، والله تعالی اعلم، کتبه عزیز الرحمٰن عفی عنه

داحتیاط الظهر بحث: **سوال**: (۲۵۹۶) داحتیاط الظهر کول درست دی اوکه نه؟ که چیری درست نه وی نومولانا اشرف علی صاحبؒ چی په بهشتی ګوهر ص ۱۰۳ کی دامسئله لیکلی ده، ددی څه مطلب دی؟

مسئله: بعض خلګ تر جُمعې وروسته احتیاطی دماپښین لمونځ کوی چونکه دعوامو اعتقاد په دی سره ډیر خراب سویدی، هغوی مطلقاً منع کول په کار دی، البته که چیری یو خوك دعلم خاوند یی کول غواړی نودخپلو کولو دي چاته اطلاع نه کوی.

جواب: مسئله په باره داحتیاط الظهر کی همدغه ده، کمه چی حضرت مولانا اشرف علی صاحبؒ په بهشتی زیور کی لیکلی ده. (۲) فقط. والله تعالی اعلم

---

(۱). ویبدأ بالتعوذ سرا قال الشامی ای قبل الخطبة الاولی الخ (شامی ج۱ ص۷۴۷ ، ط. س. ج۲ ص ۱۴۹). جمیل

(۲). نعم ان ادی الی مفسدة لا تفعل جهارا والکلام عند عدمها ولذا قال المقدسی نحن لا نامر بذلك امثال =

دسنتوپه وخت کی وعظ: **سوال**: (۲۵۹۷) دجُمعې دلمانځه اودخطبي څخه مخکی يوواعظ په جامع جومات کی هميشه وعظ کوی اوسنت کوونکی هميشه اخته وی سنت کوی، او کله په نابالغو هلکانو باندی قرآن کريم ويل کيږی، چی دهغه سره دلمانځه ګذارو په لمانځه کی خلل واقع کيږی، په داسی موقعو کی دوعظ اوقرآن کريم ويلو څه حکم دی؟

جواب: فقهاؤ تصريح فرمايلی ده چی رفع الصوت بالذکر په کم سره چی دلمانځه ګذارو په لمانځه کی خلل واقع کيږی يا بيده خلګو ته تکليف رسيږی نوهغه ممنوع دی. فی الشامی ولا يعارض ذلك حديث خير الذكر الخفى لانه حيث خيف الرياء او تاذى المصلين او النيام فان خلا مما ذكر فقال بعض اهل العلم بان الجهر افضل. شامی، پس کله چی ذکرالله په جهرسره کول منع سويدی دلمونځ ګذارو دتکليف په وجه سره نووعظ منع کول په درجه اولی دی، همدغه رکم قرآن کريم په جهر سره په چا باندی ويل په کم ځای کی چی لمونځ ګذاره لمونځ کوی، اوپه په زوره قرآن کريم ويلو سره دهغوی په لمونځونو کی خلل واقع کيږی، ممنوع دی. فقط

دخطبو په مينځ کی دعاء: **سوال**: (۲۵۹۸) ماقولكم دام فضلكم فى الدعاء برفع اليدين فى الجلسة الخفيفة بين الخطبتين ليوم الجمعة هل له ثبوت عنه ﷺ ، فالاتباع فى فعله ام فى تركه وعلى الثانى فهل هو جائز ام مكروه وعلى الثانى فهل كراهيته تنزيهية ام تحريمية افيدونا بالنقل الصريح . رحمكم الله؟

جواب: نفس الدعاء مع قطع النظر عن رفع اليدين فى هذه الجلسة مما لم يثبت عنده ﷺ كما صرح به المحدث الدهلویؒ فی شرح سفر السعادت وشرح المشكوٰة حيث قال، آنحضرت ﷺ درميان دوخطبه به نشستی وخاموش بودی دعاء ازآن حضرت ﷺ درين وقت به ثبوت نه رسيده. قال فی غاية الاوطار: طحاویؒ فرمايي چی په دی جلسه کی هيڅ دعاء دحضور ﷺ څخه ثابته نه ده، مولانا عبد الحیؒ صاحب په خپله فتاوٰی کی فرمايي چی په دغه وخت کی نفس دعاء منقول نه ده، رفع اليدين خو لا څه کوی ؒ فالاتباع ترکه. غاية الاوطار، ددرمختارپه شرح کی دی چی لاسونه پورته کول هم ددواړو خطبو په مينځ کی ددعاء دپاره روا نه دی، اوپه جامع الخطيب کی دی چی دخطبو په مينځ کی ددعاء دپاره لاسونه پورته کول هم حرام دی الخ.

فعلم من هذه النقول أن الدعا برفع اليدين في الجلسة المذكورة غير مشروع ومكروه تحريم

= العوام بل ندل عليه الخواص (شامی جلد اول ص ۷۵۴ ، باب الجمعة تحت قول صاحب الدر المختار: فصلی بعدها اخر ظهر ؒ).

وعلينا اتباع ما صرحوا به كما أفتوا ولعل الاصل في ذلك ما رواه الترمذي في سننه حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ قَالَ سَمِعْتُ عُمَارَةَ بْنَ رُوَيْبَةَ الثَّقَفِيَّ وَبِشْرُ بْنُ مَرْوَانَ يَخْطُبُ فَرَفَعَ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ فَقَالَ عُمَارَةُ قَبَّحَ اللهُ هَاتَيْنِ الْيُدَيَّتَيْنِ الْقُصَيِّرَتَيْنِ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يَزِيدُ عَلَى أَنْ يَقُولَ هَكَذَا وَأَشَارَ هُشَيْمٌ بِالسَّبَّابَةِ . قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قال أبو الطيب في شرح هذا الحديث وإشارته صلى الله عليه وسلم لعلها كانت وقت التشهد اى التوجه والله تعالى أعلم وقال النووي فيه ان السنة أن لا ترفع اليد في الخطبة وهو قول مالك رح وأصحابنا وغيرهم وحكى القاضي عن بعض السلف وبعض المالكية اباحته لان النبي صلى الله عليه وسلم رفع يديه في خطبة الجمعة حين استسقى وأجاب الاولون بان هذا الرفع كان لعارض ففي التحرير المختار لرد المحتار على قوله قلت قد صرح به في الدر ايضاً من كتاب صفة الصلاة بعد كلام أن ترك السنة المؤكدة قريب من الحرام وأن تاركها يستوجب التضليل واللوم اهـ فكما أن بشير بن مروان ارتكب أمرا مكروهاً تحريماً حتى التحقق اللوم والدعاء عليه بقوله قبح الله هاتين اليدين القصيرتين بسبب إتيانه فعلا في الخطبة لم يفعله صلى الله عليه وسلم وترك السنة النبوى صلى الله عليه وسلم كذلك من يرفع يديه في الجلسة الخفيفة بين الخطبتين للدعاء يستحق أن يدعى عليه ويقال في حقه قبح الله هاتين اليدين اهـ لأنه صلى الله عليه وسلم لم يفعله فهو تارك للسنة النبوية صلى الله عليه وسلم ومرتكب أمر مكروه تحريماً اذ لا لوم على الفعل المباح والمكروه تنزيهاً الذي مرجعه خلاف الأولى. فقط

* * *

الباب السادس عشر فى صلاة العيدين

داخترونو دلمانځه متعلق احکام او مسائل

<u>په عیدګاه کی په لوړ اواز سره تکبیرونه ویل نه دی پکار</u>: **سوال**: (۲۵۹۹) په اکثره ځایونو کی په عیدګاه کی دلمانځه څخه مخکی بار بار په لوړ اواز سره تکبیر ویل کیږی، ددی دپاره چی لیری خلګ یی واوری اوژر لمانځه ته راسی. په دی طریقه سره په زوره تکبیر ویل جائزدی اوکه نه؟

جواب: قال عطاء أخبرني جابر بن عبد الله أن لا أذان للصلاة يوم الفطر حين يخرج الإمام ولا بعد ما يخرج ولا إقامة ولا نداء ولا شيء لا نداء يومئذ ولا إقامة. رواه مسلم (۱) ، **ددی حدیث شریف**

(۱). مشکوٰة باب العیدین فصل ثالث ص ۱۲۷.

څخه معلومه سوه چې داخترونو په ورځ په عيدګاه کې هيڅ اواز اوتکبير وغيره دخلګو دراغوښتلو په غرض ويل نه دي په کار.

په جماعت کې دتفريق کوونکې لمونځ کيږي اوکه نه؟ **سوال**: (٢٧٠٠) دي خلګو يوسړي د اختر اودجُمعې دلمانځه دپاره خطيب مقرر کړی دی، ټول خلګ ددی امام څخه خوشحاله دی، اوس يوسړي دفساد اچولو په غرض دعوىٰ وکړه چې زه به لمونځ ورکوم، ليکن خلګو منعه کړی، کله چې کار ونه سو نودغه مفسد دوه څلور کسان دځان سره ملګری کړل اوپه لږ څه فاصله کې يې دجُمعې دشروع کيدلو سره په دغه سړيو سره خپل جلا جماعت وکی، اوس دا تحرير وفرماياست چې ددغه مفسدانو لمونځ صحيح سو اوکه نه؟

جواب: ددغه مدعی امامت او ددغه مقتديانو لمونځ صحيح سو (١) ليکن ددی تفريق او فساد په وجهی سره هغوی ګنهګار سول.

چې داختر خطبه يو ورکړي اولمونځ بل څوک ورکړي نوهم لمونځ صحيح سو: **سوال**: (٢٧٠١) داختر لمونځ يوسړی ورکی اوخطبه بل سړی وويل نولمونځ صحيح سو اوکه نه؟

جواب: لمونځ کيږی ليکن ښه اومناسب دادی چې خطبه اولمونځ دی يوسړی ورکوی، فی الدر المختار، لا ينبغی ان يصلی غير الخطيب فان فعل الخ جاز الخ (٢). فقط

چې دباران په وجه دکوچنی اختر لمونځ ونه سی نوپه دوهمه ورځ دي وسي: **سوال**: (٢٧٠٢) که دکوچنی اختر لمونځ دباران په وجهی سره په دغه ورځ ونسی نوپه دوهمه ورځ کول يې جائزدی اوکه نه؟

جواب: جائز دی.

دوو ډلو دوه ځايه داختر لمونځ اداء کی، نوهم درست سو: **سوال**: (٢٧٠٣) داختر لمونځ يوی ډلی په عيدګاه کی کوی اوبله ډله يې دعناد په وجهی سره دښار څخه دباندی جلا کوی نودا جائز دی اوکه نه؟

جواب: داختر لمونځ دښار څخه دباندی په عيدګاه کی کول مستحب دی، (٣) که چيری دوو ډلو په دوو ځايونو کی داختر لمونځ وکی نو ددواړو لمونځ صحيح سو (٤). فقط

---

(١). تؤدی بمصر واحد بمواضع کثيرة اتفاقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة العيدين ج١ ص ١٨٣). ظ

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص ٧٧١ ، ط. س. ج٢ ص١٢٢. ظفير

(٣). ثم خروجه الی الجبانة ﴿ والخروج اليها ای الجبانة لصلاة العيد سنة وان وسعهم المسجد الجامع ﴿ وتؤدی بمصر واحد بمواضع کثيرة اتفاقا (الدر المختار علی ماهش ردالمحتار باب صلاة العيدين ج١ ص٧٧٢ – ٧٧٧ ط. س. ج٢ ص ١٢٨ – ١٢٩). ظفير

په اخترونو کی دزیاتو تکبیرونو شمیر: **سوال**: (۲۲۰۴) داخترونو لمونځ د دولسو تکبیرونو سره کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ویصلی بهم الامام رکعتین مثنیا قبل الزوائد وهی ثلث تکبیرات فی کل رکعة الخ وفی الشامی فالعمل الان بما هو المذهب عندنا کذا فی شرح المنیة، شامی [۱] جلد اول، باب العیدین، ددی څخه معلومه سوه چی حنفی دي دخپل مذهب موافق په هر رکعات کی په دری زوائدو تکبیرونو باندی اکتفاء کوی، زیات دي نه وایی. فقط

داخترونو دلمانځه دپاره دباندی وتل سنت دی: **سوال**: (۲۲۰۵) ماقولکم ایها العلماء الکرام ودام فضلکم فی ان الخروج الی المصلی یوم العیدین لصلاتها مستحب ام سنة مؤکدة وان ما تعریف المصلی وما حکمه وما شرائط وجوبهما وادائهما واین یصلی النبی ﷺ صلٰوة العیدین مدة عمره الشریف، بینوا المسائل الخمسة بعبارة واضحة بحوالة الکتاب فصیبوا اجراً جزیلاً من الله العزیز الوهاب.

جواب: وهوالملهم للصواب الخروج الی المصلی یوم العیدین لصلاتهما بالقول المعتبر والصحیح عند عامة الفقهاء سنة مؤکدة لا مستحب وان کان بعضهم قائلین باستحبابه لکن الصحیح والمعتبر عندهم کونه ای کون الخروج الی المصلی یوم العیدین سنة مؤکدة [۲] کما حققه العلامة مولانا عبد الحی رحمه الله فی کتابه المسمٰی بمجموعة الفتاوٰی تحت جواب السوال المهندس بهندسة نمبر ۱۸۷ علی الصفحة المهندسة بهندسة ص ۳۷۵ وص ۳۷۶ بهذه العبارة : هو المصوب بعض فقهاء قائل به استحباب آن شده اند لیکن صحیح ومعتبر نزد ایشان بودنش سنت موکده است، در بحر الرائق از تجنیس نقل می سازد: والخروج الی الجبانة سنة صلٰوة العیدین وان کان یسعهم المسجد الجامع عند عامة المشائخ هو الصحیح، انتهٰی. وهمچنین است در بزازیه وجامع الرموز ومنح الغفار شرح تنویر الابصار وغیره. واز کتب سیرت واحادیث ثابت است، که انحضرت ﷺ دائمًا برائی نماز عیدین بصحرا تشریف می بردند وفی عمره بجز یك مرتبه بعذر بارش گاهی درمسجد خود که از جمله اماکن بدر جهان افضل است نماز عیدین اداء نه فرموده اند وخلفائی راشدین هم برین مواظبت فرموده اند

---

[۴]. ویؤخر بعذر کمطر الی الزوال من الغد فقط (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة العیدین ج۱ ص ۷۸۳ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۲). ظفیر

[۱]. ردالمحتار باب صلوة العیدین مطبوعه عثمانیه ج۱ ص۷۸۰ ، ط. س. ج۲ ص ۱۷۲. ظفیر

[۲]. والخروج الیها ای الجبانة لصلاة العید سنة ؒ هو الصحیح (در مختار) قال فی الظهیریة وقال بعضهم لیس بسنة ؒ والصحیح هو الاول (ردالمحتار باب صلاة العیدین ج۱ ص۷۷۲ – ۷۷۷ ، ط. س. ج۲ ص ۱۶۹). ظفیر

واین مواظبت نه برسبیل عادت بود ونه بوجه ضرورت بلکی برسبیل عبادت تا بوجه کثرت جمعیت تزاید ثواب گردد وشوکت اسلام ظاهر گردد. هذا ایة للسنة علی سبیل التأکید وفی موضع اخر من هذا الکتاب تحت جواب السوال المهندس بهندسة ص ۱۹٤ وص ۳۸۵ وص ۳۸٦ هکذا: الجواب: خروج الی الجبانة برای نماز عیدین سنت مؤکده است چناچی محشی شرح وقایه مولوی عبد الحی دام فضله برحاشیه شرح وقایه عمدة الرعایه تحریر فرموده اند. قال فی شرح الوقایه حبب یوم الفطر ان یاکل قبل صلاة ویستاك ویغتسل ویتطیب ویلبس احسن ثیابه ویؤدی فطرته ویخرج الی المصلی غیر مکبر جهراً فی طریقه. انتهٰی

قوله حبب بصیغة المجهول من التحبیب والمراد به أعم من السنة المؤکدة والمستحب فان بعض الأمور المذکورة عدوه من السنن المؤکدة وغیر. قوله: یستاك هذا من السنن العامة عند کل وضوء ومستحب عند کل صلاة فیکون مستحباً وسنة ایضاً فی العیدین بالطریق الاولی قوله ویؤدي فطرته بالکسر ای صدقة الفطر وهو ان کان أدائها واجباً لکن أدائها قبل الخروج إلی المصلی مسنون هو المنقول عن ابن عمر قال أمرنا رسول الله ﷺ یوم الفطر أن نؤدیها قبل خروج الناس إلی الصلاة أخرجه البخاري ومسلم. قوله: ویخرج إلی المصلی بصیغة المفعول هو موضع فی اصل حراء یصلی فیه صلاة العیدین ویقال له الجبانة ومطلق الخروج من بیته إلی الصلاة وان کان واجباً بناءً علی أن ما یتم به الواجب واجب لکن الخروج إلی الجبانة سنة مؤکدة وان وسعهم المسجد الجامع فان صلوا فی مساجد المصر من غیر عذر جازت صلاتهم وترکوا السنة هذا هو الصحیح کما في الظهیریة وفی الخلاصة والخانیة السنة أن یخرج الامام إلی الجبانة ویستخلف غیره لیصلی في المصر بالضعفاء بناءً علی أن صلاة العیدین في الموضعین جائزة بالاتفاق انتهی والاصل فیه أن النبي صلی الله علیه وسلم کان یخرج إلی المصلی ولم یصل صلاة العیدین في مسجده مع شرفه الا مرة بعذر المطر کما بسطه ابن القیم في زاد المعاد والقسطلاني في مواهب اللدنیة وغیرهما والاحادیث فی هذا الباب مخرجة فی کتب السنن وغیرها وقد وقع النزاع بین العلماء في عصرنا في أن الخروج إلی المصلی سنة أم مستحب فافتی اکثرهم بأنه سنة مؤکدة وهذا هو القول المنصور الموافق لکتب الأصول والفروع المطابق لما علیه الجمهور وقیل انه مستحب وقول باطل لا وجه له وأفرط بعضهم فقال انه واجب وهو قول مردود ولا عبرة به ولتفصیل مقام أخر انتهی. وقال في الدر المختار وندب یوم الفطر أکله إلی قوله وأداء فطرته صح عطفه علي أکله لان الکلام کله قبل الخروج ومن ثم أتی بکلمة ثم خروجه لیفید تراخیه عن جمیع مامر ماشیاً إلی الجبانة وهي المصلی العام والواجب مطلق التوجه والخروج إلیها أی إلی الجبانة لصلاة العید سنة وأن یسعهم المسجد الجامع وهو الصحیح.

والمجيب مصيب فيما أجاب محمد عباس على، هذا الجواب موافق للسنة والكتاب، حرره الفقير محمد محسن الجونفورى، الجواب صحيح والرأى نجيح لا شبهة في أن مقتضي الادلة الشرعية هو كون الخروج إلى المصلى سنة مؤكدة والقول بالاستحباب ليس بمعتبر عند اولى الألباب حرره الراجى عفو ربه القوى أبو الحسنات محمد عبد الحى تجاوز الله عن ذنبه الجلى والخفى.

وأما تعريف المصلى فقد مر في ضمن هذا الجواب، وأما حكمه اى حكم المصلى كحكم سائر المساجد، وأما شرائط أدائهما ووجوبهما هى شرايط الجمعة وجوباً واداءاً سوى الخطبة كما قال فى شرح الوقايه شرط لها شروط الجمعة وجوبًا واداء الا الخطبة، واما المواضع التى كان يصلى النبى ﷺ فيه صلاة العيدين هو موضع فى الصحر خارج المدينة المنورة فى الجانب الغربى من المسجد النبوى ﷺ وبينه وبين المسجد الشريف الف اذرع كما قال مولانا محمد عبد الحى فى كتابه المذكور ص ٦٦ جلد نمبر ٣ بهذه العبارة قوله: ازعادات نبوى ﷺ آن بود كه بطرف مصلى تشريف مى بردند وآن مكانى است بيرون مدينه منوره جانب غربى مسجد شريف وميان وى ومسجد شريف هزار ذراع است كما قال ابن حجر. والله اعلم بالصواب

داخترونو دلمونځو څخه وروسته دعاء: سوال: (٢٧٠٢) حضور ﷺ به داخترونو دلمونځ څخه وروسته دعاء غوښتله اوكه نه؟

جواب: په عام طور سره دلمانځه څخه وروسته دعاء غوښتل وارد سوى دى لهٰذا داخترونو دلمانځه څخه وروسته هم دعاء غوښتل مسنون اومستحب دى. فقط

داخترونو په لمانځه كى دسجده سهوى حكم او دفرضو څخه دواجبو طرف ته واپس كيدل:

سوال: (٢٧٠٧) داختر په لمونځ كى امام سهواً بعضى واجب تكبيرونه پريښوول اوركوع ته ولاړى دهغه څخه پس دركوع څخه راواپس سو قومى ته راغى اوتكبير يى ووايه، اوبيا ركوع ته ولاړى، نوپه دى صورة كى لمونځ صحيح سو اوكه نه؟ اعاده واجبه ده او كه سجده سهوه لازمه ده؟ اوكه چيرى تكبير پاته سى نوڅه حكم دى؟ اوسجده سهوه په اخترونو كى اوپه جُمعه كى دكولو اودنه كولو معمول به څنگه دى؟ اوعود من الفرض الى الواجب مفسد صلوٰة دى اوكه نه؟ اوسجده سهوه لازمه نه وه خو شبهه يى وكړه چى شايد څه موجب دسهوى واقع سوى وى نوددى څه حكم دى؟

جواب: صحيح داده چى لمونځ صحيح سو ليكن داسى كول نه وو په كار. په درمختار كى دى، كما لو ركع قبل ان يكبر فان الامام يكبر فى الركوع ولا يعود الى القيام ليكبر فى ظاهر الرواية فلو عاد ينبغى الفساد، په شامى كى په دى باندى ويلى دى: وقد علمت أن العود رواية النوادر، على أنه يقال عليه ما قاله ابن الهمام في ترجيح القول بعدم الفساد فيما لو عاد إلى القعود

الاول بعد ما استتم قائما بأن فيه رفض الفرض لاجل الواجب، وهو إن لم يحل فهو بالصحة لا يخل، (١) شامي ج١ ص٥٢١، اوتكبيرات بالكل پاته كيدل ياپه ذكرسوى طريقه په قومه كى اداء كول دترك واجب په اعتبار سره برابردى، اولمونځ په دوارو صورتونو كى كيږى دداسى امورو په ترك باندى په اصل كى سجده سهوه لازميږى اوپه سجده سهوى سره ددى انجبار كيږى، ليكن په جُمعه اواخترونو كى فقهاؤ دسجده سهوى ترك كول اختيار فرمايلى دى څنگه چى په درمختار كى دى: والسهو فى صلوة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء، والمختار عند المتاخرين عدمه فى الاولين لدفع الفتنة (٢) الخ، وهكذا فى الشامي، اوداابن همام دتحقيق څخه هم داواضحه سوه چى ترك فرض الى الواجب مفسد دصلوة نه دى، اوپه كم صورة كى چى سجده سهوه لازمه نه وى اوپه غلطى اوپه شبهى سره وسى نولمونځ كيږى. فقط

په اخترونوكى دلمانځه څخه وروسته دعاء اوپه دى سلسله ک داكابرو مسلك: سوال: (٢٢٠٨)

په الرشيد ماه رجب المرجب سنه ١٣٣٥هـ څلورم جلد كى داقسم يوه مسئله ده، په جواب كى يى ليكلى دى سره دحوالى دعبارت دشامى اوحصن حصين وغيره چى اتباع درسول الله ﷺ داخترونو دلمانځه څخه وروسته په دعاء غوښتلو كى ده، ددى څخه په ترك كى نه ده اودخطبى څخه وروسته اتباع سنت په دعاء نه كولو كى ده، دمولانا عبد الحى ؒ په مجموعه فتاوىٰ كى يوه استفتاء دهمدى مضمون ده چى دهغه په جواب كى مولانا پخپله ليكلى دى چى دحديث درواياتو څخه دومره قدر معلوميږى چى حضور ﷺ به داختر دلمانځه څخه دفارغه كيدلو څخه وروسته خطبه ويله اودهغه څخه وروسته به يى معاودت فرمايى، دعاء غوښتل وروسته دلمانځه څخه ياپس دخطبى څخه دهغوى ﷺ څخه ثابت نه دى.

همدغه ركم دصحابه كرامو اوتابعينو عظامو څخه ددى ثبوت ترنظر تير سوى نه دى، په بهشتى گوهر كى يى داخترونو دلمانځه په بيان كى ليكلى دى:

مسئله: داخترونو دلمانځه څخه وروسته يادخطبى څخه وروسته دعاء غوښتل دنبى كريم ﷺ څخه اودهغوى ﷺ دصحابه وو ﷺ اوتابعينو ﷺ څخه منقول نه دى، اوكه چيرى دغه حضراتو دعا غوښتى واى نوضرور به نقل سوى واى، لهذا په غرض داتباع دعا نه غوښتل ددعاء غوښتلو څخه ښه دى په داسى حالت كى زموږ خلگو دپاره واجب العمل څه دى؟

(١). ردالمحتار باب العيدين ج ١ ص ٧٨٢ مطبوعه درسعادت ، ط. س. ج٢ ص١٧۴. ظفير

(٢). الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠۵، ط. س. ج٢ ص٩٢. ظفير

جواب: زموږ دحضراتو اکابرو لکه حضرت مولانا رشید احمد گنگوهی قدس سرہ، اوحضرت مولانا قاسم صاحب نانوتوی" اودنورو استاذانو حضراتو لکه حضرت مولانا محمد یعقوب صاحب" سابق صدر مدرس مدرسه هذا (دارالعلوم دیوبند) اوحضرت مولانا محمود حسن صاحب" صدر مدرس مدرسه هذا (دار العلوم دیوبند) وغیرهم (ددی ټولو) همدا معمول وو چی داخترونو دلمانځه څخه وروسته به یی هم دټولو لمونځونو په شان په لاسونو پورته کولو سره دعاء غوښتله، اوداحادیثو مبارکانو هم مطلقا دلمونځونو څخه وروسته دعاء غوښتل ثابت دی په دی کی داخترونو لمونځ هم داخل دی، لهذا راجح زموږ په نزد همداده چی داختر دلمانځه څخه وروسته هم دعاء مستحب ده، او د مولانا عبد الحی صاحب" فتوی بنده هم کتلی وه، محضی په دی وجه چی داخترونو دلمونځ څخه وروسته ددعاء ذکر نسته، ددعاء نیستوالی نه ځینی معلومیږی ([1]) او د نورو احادیثو څخه دټولو لمونځونو څخه وروسته ددعاء سته والی ثابت دی، نودابه هم په هغه باندی حملول کیږی، ځکه چی کله کلیه (قاعده) استحباب ددعاء بعد الصلوات ثابت سو، نواوس داضروری نه ده چی دهر لمانځه څخه وروسته دی تصریح وارده وی. کما هو ظاهر. اوپه بهشتی گوهرکی هم غالبا دمولانا عبدالحی صاحب" دفتوی په اتباع کی داسی لیکل سوی دی، دبنده په نزد هغه مسلمه نه ده. فقط

داختر دخطبی ابتداء په تکبیرسره مستحب ده: **سوال**: (۲۲۰۹) داخترونو دخطبی په ابتداء کی په تکبیر ویلو سره شروع کول مسنون دی. تکبیر دخطبی په طور باندی بالجهر ووایی اوکه کراریې ووایی اوبیا خطبه شروع کړی؟

جواب: داخترونو په خطبه کی یی دامستحب لیکلی دی چی داولنی خطبی دشروع کولو څخه مخکی دی نه واره تکبیر بالجهر متواتر ووایی او ددوهمی خطبی څخه مخکی دي اوه واره تکبیر بالجهر ووایی. په درمختار کی دی: ویستحب ان یستفتح الاولی بتسع تکبیرات تتری ای متتابعات والثانیة السبع هو السنة الخ ([2]). فقط

دعادلو شاهدانو په شاهدی باندی د اختر لمونځ : **سوال** : (۲۲۱۰) بعضو خلگو دزیارت په

([1]). یو ددې وجه چی عدم ذکر دیو شی مستلزم نه دی مطلق عدم ددې شی لره، اوبل ددې وجی چی که څه هم دعا کول وروسته تر لمونځونو داختر نه دی روایت سوی، لیکن نه کول یې هم نه دی روایت سوی، یعنی داهم په یو روایت کی نسته چی رسول الله ﷺ او صحابه وو ﷺ داختر لمونځ اداء کړی لیکن دعاء یې ونکړه، نوکله چی داثبات او نفی دواړو روایت نه دی موجود، په داسی وخت کی به په اصل قاعده باندی عمل کیږی، اوقاعده دا ده چی ترډیرو لمونځونو وروسته درسول الله ﷺ او اصحابو ﷺ څخه دعاگانی کول ثابت دی، والله تعالی أعلم وعلمه أتمّ وأکمل وأحکم، محمد أحمد الحقانی الأفغانی عفاالله

([2]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۸۳ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۵. ظفیر

ورځ اوبعضو دجُمعې په ورځ دلوی اختر لمونځ وکړی، اوپه دی زمانه کی چی دعادل صفت مفقود دی، نوشرائط دعادل وغیره کیدل دمیاشتی لیدلو شاهدانو دپاره ضروری دی اوکه دکلمه شهادت ویلو څخه وروسته به کافی شهادت متصور کیږی اوکمو خلګو چی دزیارت په ورځ دلوی اختر لمونځ وکی هغه لمونځ صحیح سو اوکه نه؟ اوایا په یوولسم او دولسم تاریخ باندی هم دلوی اختر لمونځ کیدی سی؟

جواب: دشاهدانو دعادلوالی ثبوت درؤیت هلال دپاره ضروردی اوکله چی عادلان نه وه، نو دهغوی په شاهدی باندی په اعتماد کولو سره دزیارت په ورځ دلوی اختر لمونځ کول نه وو په کار، اودغه لمونځ صحیح نه سو (۱) کمو خلګو چی دجُمعې په ورځ لمونځ وکی هغوی پرحق باندی دی، اودا صحیح ده چی دلوی اختر لمونځ دعذر په وجهی سره په یوولسم او دولسم تاریخ باندی هم کیدی سی (۲). فقط

<u>په اخترونو کی خطبه دکم ځای څخه ورکړی</u>: **سوال**: (۲۲۱۱) داخترونو په خطبه کی امام دخطبی دپاره کم ځای ودریږی. بعضی ملایان وایی چی کم ځای لمونځ وکړی په هم هغه ځای دي خطبه ووایی، په بل ځای کی خطبه ویل جائزنه دی؟

جواب: داخترونو دلمونځ څخه وروسته دي امام پرمنبر باندی ودریږی اوخطبه دی ووایی همدا سنت دی، دلمانځه اودخطبی ځایونه یو نه وی، دلمونځ ورکولو دپاره امام لاندی ولاړ وی اودخطبی ویلو دپاره منبرته ورځی (۳).

<u>ددوو عادلانوپه شاهدی سره رؤیت ثابتیږی</u>: **سوال**: (۲۲۱۲) زید اوعمر چی په ظاهره پکښی هیڅ خرابی نه سته دلوی اختر میاشت په یوکم دیرشم ولیده، او دقاضی په مخکی یی شاهدی ورکړه، قاضی شاهدی تسلیم کړه اوحکم یی ورکی، یوی ډلی ددیرشو دمیاشتی په حساب سره اختر وکی، اویوی ډلی دیوکم دیرشوپه حساب سره، اویوی ډلی په دواړو ورځو لمونځونه وکړه، نوپه دی صورۃ کی دقاضی اوذکر سوی ډلی دپاره څه حکم دی؟ او دشاهدانو دپاره څه حکم دی؟

جواب: که چیری دوو عادلانو شاهدانو دمیاشتی دلیدلو شاهدی ورکړه نو رؤیت ثابت سو، ټولوته هلته دهمدی (رؤیت) موافق دلوی اختر لمونځ اداء کول په کاروو، کمو خلګو

---

(۱). للصوم مع غیم وغبار خبر عدل اومستور الخ لا فاسق اتفاقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج۱ ص ۱۲۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۵). ظفیر

(۲). لکن هنا یجوز تأخیرها (ای فی صلاۃ الاضحٰی) الی اخر ثالث ایام النحر بلا عذر مع الکراهۃ وبه ای بالعذر بدونها. (الدر المختار باب العیدین ج۱ ص ۷۸۳ ، ط. س. ج۲ ص ۱۷۵). ظفیر

(۳). وما سن فی الجمعۃ ویکره یسن فیها ویکره الخ وان یکبر قبل نزوله من المنبر (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب العیدین ج۱ ص۷۸۲ ، ط. س. ج۲ ص ۱۷۵). ظفیر

چې دشاهدانو دعادلوالی باوجود ددغه شاهدی موافقت ونه کی، هغوی غلطی وکړه، لیکن که چیری شاهدان دشرعی قاعدی مطابق عادلان اومتقیان اوپرهیزګاران نه وه، نو بیاپه هغه باندی عمل نه کوونکی پرحق باندی وه، واضحه دي وی چی قاضی شرعی په دی زمانه کی داسی نسته، دچا چی حکم باوجود دشاهدانو دعادل اودثقه نه کیدلو نافذ ومنل سی (۱). فقط

په یوم النحر کی دروژی دتهولو شرطونو رعایت مستحب دی: **سوال**: (۲۲۱۳) په یوم النحر کی یعنی دذی الحجی په لسمه داختر دلمانځه څخه مخکی صرف خوراك چښاك نه کول مسنون دی اوکه نه دروژی دټولو شرطونو رعایت ساتل ضروری دی؟ ایا دجماع څخه هم احتراز کول په کاردی اوکه نه؟

جواب: دروژی دټولو شرائطو احتراز دقربانی څخه مخکی مستحب دی اوپه درمختار کی دی چی دقربانی څخه مخکی خوراك نه کول مستحب دی، که څه هم دی قربانی نه کوی، اوکه خوراك وکړی نوڅه کراهت پکښی نسته (۲)، اوپه شامی کی دی، یندب الامساك عما یفطر الصائم (۳)، یعنی دهغه شیانوڅخه ځان بندول مستحب دی په کمو سره چی روژه ماتیږی. فقط

داخترونو خطبه مختصر په کارده اودخطبی اوریدل واجب دی: **سوال**: (۲۲۱۴) زید په اختر کی دحضرت مولانا عبدالحی لکهنویؒ خطبه وویل، چی دهغه ددواړو خطبو اوږدوالی تخمینا شپږ صفحی دی، په دی باندی عمر اعتراض کوی چې ددومره لویی خطبی اورولو هیڅ ضرورت نسته، سمدستی راتلل په کاردی، ایا شرعًا ددومره لویی خطبی داوریدلو هغه حکم نه دی کم چی دیوی مختصری اوریدلو دی؟

جواب: په درمختار کی دی: وتکره زیادتهما علی قدر سورة من طوال المفصل، وفی الشامی قوله تکره الخ عبارة القهستانی وزیادة التطویل مکروهة الخ (۴).

اوپه مشکوٰة شریف کی داحدیث شریف مروی دی، وعن عمار قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: إن طول صلاة الرجل وقصر خطبته مئنة من فقهه فأطیلوا الصلاة واقصروا الخطبة

---

(۱). ولو کانوا ببلدة لا حاکم فیها صاموا بقول ثقة وافطروا باخبار عدلین مع العلة للضرورة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار، کتاب الصوم ج۲ ص۱۲۵ ، ط. س. ج۲ ص۳۸۲). ظفیر

(۲). ویندب تاخیر اکله عنها وان لم یصح فی الاصح ولو اکل لم یکره ای تحریما (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب صلوة العیدین ج۱ ص ۷۸۴ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۲ – ۱۷۷). ظفیر

(۳). ردالمحتار باب صلاة العیدین ج۱ ص۷۸۴ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۲ . ظفیر

(۴). ردالمحتار باب الجمعة (ج۱ ص ۷۵۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۴۸). ظفیر

وإن من البيان سحرا. رواه مسلم (۱). **نو معلومه سوه چي خطبه زياته اوږده ويل مکروه دي، ليکن خطبه چي هرڅومره وي دهغه اوريدل واجب دي.**
کراهت دخطبي داوږدونکي په حق کي دي، په اوريدونکو باندي دټولي خطبي اوريدل واجب دي، په درمختار کي دي: وکذا يجب الاستماع لسائر الخطب کخطبة نکاح وخطبة عيد وختم علی المعتمد الخ. فقط

ښه داده چي خطيب اوامام دي يوسړي وي: سوال: (۲۲۱۵) په اخترونو کي امام اوخطيب دوه مختلف کسان مقرر سوي دي، يعني يوسړي امامت کوي، اوبل سړي خطبه وايي ايا دافعل جائزدي ايا دحضور ﷺ يادصحابه کرامو ؓ په زمانه کي داسي نظير پيدا کيږي؟
جواب: دافعل جائزدي چي يوسړي امام سي اوخطيب بل سړي سي ليکن ښه دادي چي خطيب دي هغه څوك وي چي هغه امام وي، کذا في الدر المختار (۲). فقط

په اخترونو کي دشپږو زيات تکبيرونو ثبوت: سوال: (۲۲۱۶) درسول الله ﷺ څخه داختر لمونځ په شپږو تکبيرونو سره کول يا په شپږو تکبيرونو سره دلمانځه داداء کولو حکم ورکول ثابت دي اوکه نه؟
جواب: دمنيه په شرح کي يي ليکلي دي چي داخترونو په هر رکعات کي دتکبير دافتتاح څخه علاوه دري تکبيرونه دډيرو جليل القدرو صحابه کرامو ﷺ څخه ثابت دي او د رسول الله ﷺ څخه منقول دي. والتحقيق في المطولات (۳). فقط

کمه عيدګاه چي دابادي په زياتيدلو سره په ابادي کي دننه راغله نوهغه دصحراء په حکم کي نه ده: سوال: (۲۲۱۷) زړه عيدګاه دابادي دزياتيدلو په وجه دننه راغلي ده اوپه هغه کي پنځه وخته لمونځ په اذان اوجماعت سره کيږي اوس يوڅو کسان اتباعًا للسنة په صحراء کي داخترونو دلمانځه تجويز ورکوي په دي صورة کي شرعًا څه حکم دي؟
جواب: داخترونو دلمانځه دپاره مسنونه طريقه هم داده چي په صحراء کي دابادي څخه دباندي وسي، کم کسان چي ددي مجوِّز دي چي دابادي څخه دباندي په صحراء کي دي داخترونو لمونځ اداء سي، نوهغوی په حق باندي دي، زړه عيدګاه کمه چي دپنځه وخته

---

(۱). مشکوة باب الخطبه والصلوة فصل اول ص ۱۳۳. ظفير
(۲). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۲۹. ظفير، ولا ينبغي ان يصلي غير الخطيب لانها کشيئ واحد فان فعل بان خطب صبي باذن سلطان وصلی بالغ جاز هوالمختار (درمختار) ولاينبغي ان يصلي غير الخطيب لان الجمعة مع الخطبة کشيئ واحد فلا ينبغي ان يقيمها اثنان وان فعل جاز (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۵۱، ط. س. ج۲ ص۱۲۲). ظفير
(۳). وګوری غنية المستملي باب العيدين . ظفير

لمونځ جومات سو اوپه کلی کی دننه راغله هغه دجبانی یعنی دصحراء په حکم کی پاته نه سوه (۱). فقط

ماشومان به داخترونو په لمانځه کی کم ځای دریږی: **سوال**: (۲۲۱۸) په عیدګاه کی به ماشومان په جماعت کی دننه دریدل اوکه نه لمونځ ګذارو ته به مخامخ کښېنستل؟ او دامام راسته اوچپه طرف ته په نابالغه ماشومان درولو کی څه خرابی ده؟

جواب: دنابالغه ماشومانو دپاره حکم خودا دی چی که چیری په جماعت کی شامليږی نو وروسته دي ودريږی برابره خبره ده که داخترونو جماعت وی اوکه دنورو لمونځونو. که چیری دمجبوری په وجه څنګه چی په عیدګاه کی پیښیږی ماشومان په جماعت کی دننه ودريږی، یا دلمانځه ګذار مخ ته کښېنی یا راسته اوچپه طرف ته ودريږی نولمونځ کیږی، لیکن دا خلاف سنت دی اومکروه تنزیهی دی (۲). فقط

داخترونو په لمانځه کی دښځو جماعت مکروه دی: **سوال**: (۲۲۱۹) داخترونو لمونځ دګوشه نیشینو ښځو دپاره په کورکی اداء کول جائزدی اوکه نه؟ اوښځو ته دسړیو په شان په جماعت سره لمونځ ادا کول جائزد اوکه نه؟ که چیری جائزوی نوښځه امامه کیدی سی اوکه نه؟ که چیری کیدی سی نوښځه امامه به په صف کی دښځو سره برابره دریږی اوکه نه دسړیو دامام په شان؟

جواب: په درمختار کی دی، ویکره تحریما جماعة النساء الخ (۳)، ددی څخه معلومه سوه چی دښځو جماعت مکروه تحریمی دی، که څه هم په فرضو اوواجبو کی وی یا په سنتو اونفلو کی وی، کذا فی الشامی، بیا که چیری ښځی جماعت کوی سره دکراهت تحریمی څخه، نو دهغوی امامه دي دهغوی په مینځ کی دښځو سره برابر ودريږی، مخکی دی نه دریږی، کما فی الدر المختار فان فعلن تقف الامام وسطهن فلو تقدمت اثمت الخ (۴)، بیا مخ ته یی دالیکلی دی چی ښځو لره دسړیو په جماعت کی دجُمعې اواخترونو دپاره تلل اوپه هغه کی شریکیدل هم مکروه دی (۵). فقط

---

(۱). والخروج الیها ای الجبانة لصلوة العیدین سنة وان وسعهم المسجد الجامع هو الصحیح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص۷۷۲ ، ط. س. ج۲ ص۱۶۹). ظفیر

(۲). ویصف الخ ثم الصبیان ظاهره تعددهم فلو واحد دخل الصف (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۳۴ ، ط. س. ج۲ ص ۵۶۸ – ۵۷۱). ظفیر

(۳). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۸ ، ط. س. ج۱ ص ۵۲۵. ظفیر

(۴). افاد ان الکراهة فی کل ما تشرع فیه جماعة الرجال فرضا اونفلا (ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۸ ، ط. س. ج۱ ص ۵۲۵). ظفیر

(۵). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۹ ، ط. س. ج۱ ص ۵۲۵. ظفیر

په قبرستان کی داختر لمونځ کله چی قبر مخ ته نه وی: **سوال**: (۲۲۲۰) په یوه مقام کی داختر لمونځ په مقبره کی کیږی، امام ته مخامخ دیوال وی او دمقتدیانو مخ ته نه وی، نودامام داستره به دمقتدیانو دپاره کافی ګڼل کیږی څنګه چی دمرور بین یدی المصلی په صورة کی ده اوکه نه؟

جواب: قبرونه که چیری دیوه لمونځ ګذار مخ ته هم وی، نودهم هغه په لمانځه کی به کراهت راځی، قال فی الشامی لا باس بالصلوٰة فیها اذا کان فیها موضع اعد للصلوٰة، ولیس فیه قبر ولا نجاسة کما فی الخانیة ولا قبلة الی قبر، حلیه (۱). فقط

تکبیرات تشریق دښځو دپاره نسته: **سوال**: (۲۲۲۱) تکبیرات تشریق دښځی دپاره درست دی اوکه نه؟

جواب: تکبیرات تشریق دښځو دپاره دامام صاحب رحمه الله په مذهب کی نسته. (۲)

سوال: داختر دلمونځ څخه وروسته چی کورته راسی، نونفل کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: کورته چی بیرته راسی نونفل کول درست دی، کما فی الدر المختار وان تنفل بعدها فی البیت جاز الخ (۳). فقط

درکوع څخه دولاړیدلو څخه وروسته تکبرات زوائد ویل: **سوال**: (۲۲۲۲) دلوی اختر په لمانځه کی دامام څخه په دوهم رکعات کی زیات تکبیرونه هیر وسول اورکوع ته ولاړی، اول ددوهم صف والا خلګ په رکوع کی شریك سوه، ددوهمی درجی والا اوجومات سره ملحق کور والا خلګو دبی خبری په وجه درکوع اوقیام تکبیرونه تکبیرات زوائد ګڼل اوتکبیرونه یی ویل، امام چی درکوع څخه سرپورته کی نوپه قیام کی یی زیات تکبیرونه وویل، مقتدیانو هم دامام سره تکبیرونه وویل، بیا امام رکوع دوباره وکړه په هغه کی ټول مقتدیان شریك سول، امام دمتاخرینو دمذهب موافق سجده سهوه ونه کړه نو په دی صورة کی که چیری دا لمونځ دوباره وسی نوڅه کراهت خوبه نه وی پکښی؟

جواب: په دی صورة کی علامه شامی دعدم فساد صلوٰة تصحیح اوتصریح کړیده بلکی عود الی القیام یی نوادر روایت لیکلی دی، اوپه بدائع کی یی همدا اختیار فرمایلی دی، لیکن ظاهر الروایة دادی چی په داسی حالت کی دي امام دقیام طرف ته عود نه کوی، په هرحال لمونځ په دی صورة کی وسو، اوداخترونو په لمانځه کی سجده سهوه

---

(۱). ویکره حضورهن الجماعة ولو لجمعة وعید (ایضا ط. س. ج۲ ص۵۲۲). ظفیر

(۲). ویجب تکبیر التشریق ... عقب کل فرض ادی بجماعة ... مستحبة خرج جماعة النساء والغزاة لا العبید (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین، مطلب فی تکبیر التشریق ج۱ ص۴۷۴ وص ۷۸۲، ط. س. ج۲ ص۱۷۷). ظ

(۳). ردالمحتار کتاب الصلوٰة ج۱ ص۳۵۳ قبیل مطلب تکره الصلوٰة فی الکنیسة ط. س. ج۱ ص ۳۸۰. ظفیر

دمتاخرینو دفتوٰی موافق نسته، لهذا داحکم به کول کیږی چی لمونځ وسو او داعادې ضرورت یی نسته، اوپه اعاده کی دجماعت تشویش اوانتشار دی، نوددی دپاره په کمی وجهی سره چی سجده ساقطه سوه نو داعادی حکم به هم نه کول کیږی. (١) فقط

دعذر څخه بغیر داختر لمونځ په دروازه باندی کول څنګه دی؟ سوال: (١\ ٢٢٢٣) داختر لمونځ په بازار کی یاپه جومات کی دباران وغیره دعذر څخه بغیر یادخپل کورپه دروازه باندی کول جائزدی اوکه نه؟ پرتقدیرثانی مکروه تحریمی دی اوکه تنزیهی؟ سره دصحیح دلائلو او دکتابونو په حوالی سره یی تحریر وفرمایاست؟

دمکروه تحریمی دپاره ددلیل ضرورت: سوال: (٢٢٢۴\٢) دمکروه تحریمی دپاره داثبات صریح نص ضروری دی اوکه نه؟

جواب: ١\. په درمختار کی دی، والخروج الیها ای الجبانة لصلوٰة العید سنة وان وسعهم المسجد الجامع هو الصحیح الخ (٢)، وفی شرح المنیة الکبیر الخروج الی المصلی وهی الجبانة سنة وان کان یسعهم الجامع وعلیه عامة المشائخ لما ثبت انه ﷺ کان یخرج یوم الفطر ویوم الاضحی الی المصلی الخ (٣)، ددی عبارت څخه معلومه سوه چی داخترونو دلمانځه دپاره خروج الی المصلی سنت مؤکده دی، نوبې له عذره ددې پرې ښوول مکروه دی، اوپه شامی کی دبحر څخه نقل کړیدی چی دسنتِ مؤکده پرې ښوول مکروهِ تحریمی کیدل پکار دی: الحاصل ان السنة ان کانت مؤکدةً قویةً لا یبعد کون ترکها مکروهاً تحریماً وان کانت غیر مؤکدة فترکها مکروه تنزیهاً الخ (۴) (ج١ ص ۴٣٩). فقط

٢\. دمکروه تحریمی بلکی مکروه تنزیهی داثبات دپاره دخاص دلیل ضرورت دی په شامی کی دی، اقول لکن صرح فی البحر فی صلاة العید عند مسئلة الاکل بانه لا یلزم من ترك المستحب ثبوت الکراهة اذ لا بد لها من دلیل خاص الخ (٥). ص ۴٣٩. فقط

دډول او دسرنا په غږولو سره عیدګاه ته تلل او دامام په سر باندی دچتری سایه کول څنګه دی؟ سوال: (٢٢٢٥) داختر لمونځ ګذارو لره دامام سره ډول اوسرنا وغیره په غږولو سره

---

(١). وقد عملت ان العود روایة النوادر علی انه یقال علیه ما قاله ابن الهمام فی ترجیح القول بعدم الفساد فیما لو عاد الی القعود الاول بعد ما استتم قائما الخ (ردالمحتار باب العیدین ج١ ص ٧٨٢ ، تحت قوله: فلو عاد ینبغی الفساد ، ط. س. ج ٢ ص ١٧۴). ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج١ ص ٧٧٢، ط. س. ج٢ ص١٦٩. ظفیر

(٣). غنیة المستملی باب العید ص ٥٢٩ . ظفیر

(۴). ردالمحتار باب مایفسد الصلوٰة ومایکره فیها مطلب فی بیان السنة والمستحب ج١ ص ٢٢٢، ط. س. ج٢ ص٢٥٣.

(٥). ردالمحتار باب مایفسد الصلوٰة ومایکره فیها مطلب فی بیان السنة والمستحب والمندوب الخ ج١ ص ٢١١، ط. س. ج ٢ ص ٢٥٣ . ظفیر

تلل اوداختر دلمانځه څخه وروسته دخطبې په وخت کې دامام پرسر باندې دچترې سایه کول شرعا څنګه دي؟

جواب: ډول اوسرنا وغیره رغول حرام دي داسې کوونکې خطاکار او ګنهګار دي (۱) او د خطبې په وخت کې دخطیب پرسر باندې چترې کول هم په کارنه دي، داکار دخطبې دادابو او داستماع څخه خلاف دي. فقط

څوک چې قرباني کول نه غواړي هغه مخکې حجامت جوړولي سي: **سوال**: (۲۲۲۶) په کم سړي باندې چې قرباني واجبه نه ده دهغه دپاره حجامت کول (دسر خرول) په کم وخت کې مسنون اومستحب دي دلمانځه څخه مخکې اوکه وروسته؟

جواب: په صحیح مسلم کې حدیث شریف روایت سویدی، قال (۲) رسول الله ﷺ اذا دخل العشر واراد بعضکم ان یضحی فلا یاخذ شعرا ولا یقلمن ظفرا فهذا محمول علی الندب (۳)، شامی وفی روایة من رای هلال ذی الحجة واراد ان یضحی فلا یاخذ من شعره ولا من اظفاره، رواه مسلم (۴)، حاصل دادی چې کم سړی دقرباني اراده لری دهغه دپاره مستحب دادی چې دلوی اختر دلمانځه څخه وروسته نوکان او وریښتان پرې کول اوسر خریل وکړي، اوچې کم سړی دقرباني اراده نه لري، دهغه دپاره دامستحب نه دی هغه دلمانځه څخه مخکې هم حجامت جوړولی (وریښتان برابرولی) سی. فقط

بازار دصحراء په حکم کې نه دی: **سوال**: (۲۲۲۷\۱) بازار جبانه (صحراء) ګرځولی سی اوکه نه؟

په بازار کې داختر لمونځ: **سوال**: (۲۲۲۸\۲) په بازار کې داختر لمونځ بغیر کراهته درست دي اوکه نه؟

په بازار کې دعام سړک مخ ته داختر لمونځ: **سوال**: (۲۲۲۹\۳) په کم بازار کې چې د اخترونو لمونځ اداء کیږي، که چیرې هغه ته مخامخ عام سړك ؤ نو هلته جائزدي اوکه نه؟

په لاره کې داخترلمونځ: **سوال**: (۲۲۳۰\۴) که چیرې بازار عین په لاره کې وي نوپه دغه بازار کې په لاره باندې داخترونو لمونځ درست دي اوکه نه؟

په دهلیز کې داختر لمونځ: **سوال** : (۲۲۳۱ \۵) که چیرې جبانه (صحرا) نه وي نو په دهلیز

---

(۱). ودلت المسئلة ان الملاهی کلها حرام الخ قال ابن مسعود صوت اللهو والغناء ینبت النفاق فی القلب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة ج۱ ص ..... ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۸). ظفیر

(۲). وګوری مشکوۃ باب الاضحیة ص ۱۲۷. ظفیر

(۳). ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص۷۸۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۸۱. ظفیر

(۴). مشکوۃ المصابیح باب فی الاضحیة ص ۱۲۷. ظفیر

کی دپاك فرش په غوړولو سره به لمونځ بغير دکراهته وسی اوکه نه؟

دجومات په فناء کی داختر لمونځ: **سوال**: (۲۲۳۲\۲) که چیری صحرا پیدانه سی نو د جومات په فناء کی یاپه جومات کی داخترونو لمونځ کول بغیر کراهته درست دی اوکه نه؟

جواب: ۱\. ثم خروجه ماشیًا الی الجبانة وهی المصلی العام الخ (درمختار) ای فی الصحراء [۱]، معلومه سوه چی جبانه عامه عیدگاه ده کم چی په صحراء کی وی، نوبازار جبانه نه ده.

۲\. که چیرپه بازار کی جومات وی یا یوځای دخلګو دتیریدلو دځای څخه بیل وی او دشور اوشغب څخه خالی وی نوهلته په لمانځه کی څه کراهت نسته.

۳\. دعام سړك مخ ته که چیری څه حائل، دیوال وغیره نه وی نوپه داسی ځای کی لمونځ مکروه دی، وتکره الصلوة فی طریق العامة. شرح منیه [۲]، خو لمونځ به وسی.

۴\. قد مر حکمه فی ۲.

۵\. بغیر دکراهت څخه درست [۳] دی.

۶\. بغیر دکراهت څخه درست [۴] دی. فقط

عرفه دذی الحجی نهمی ته وایی: **سوال**: (۲۲۳۳) دعرفی ورځی ځودی اوپه کمه میاشت اوپه کم تاریخ کی وی؟

جواب: دعرفی ورځ یوه ده. یعنی دذی الحجی دمیاشتی نهم [۵] تاریخ. فقط

دسورة فاتحی څخه وروسته په وریادولو باندی تکبیرات زوائد بیا قرآئت: **سوال**: (۲۲۳۴) داختر په لمانځه کی امام دتکبیر تحریمی څخه وروسته سورة فاتحه شروع کړه، دالحمد لله رب العٰلمین دویلوڅخه وروسته دمقتدی په وریادولو باندی یی تکبیرات ثلاثه وویل

---

[۱]. ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص۷۷۲ ، ط. س. ج۲ ص۱۲۸. ظفیر

[۲]. غنیة المستملی ص ۳۴۹. ظفیر

[۳]. الخروج الی المصلی وهی الجبانة سنة الخ فان ضعف القوم عن الخروج امر الامام من یصلی بهم فی المسجد (غنیة المستملی ص ۵۳۹ ، ردالمحتار ط. س. ج۲ ص ۱۲۹). ظفیر

[۴]. خطب الامام سابع ذی الحجة الخ ثم التاسع بعرفات (شرح وقایه کتاب الحج ج۱ ص۳۳۳) قوله ثم التاسع ای ثم یخطب فی یوم عرفة (عمدة الرعایه فی حل شرح وقایه ج۱ ص ۳۳۳، کتاب الحج). ظفیر

[۵]. کما لو رکع الامام قبل ان یکبر فان الامام یکبر فی الرکوع ولایعود الی القیام لیکبر فی ظاهر الروایة فلوعاد ینبغی الفساد (درمختار) وقد علمت ان العود روایة النوادر علی انه یقال علیه ما قاله ابن الهمام فی ترجیح القول بعدم الفساد فیما لوعاد الی القعود الاول بعد ان استتم قائما بان فیه رفض الفرض لاجل الواجب وهو وان لم یحل فهو بالصحة لا یخل (ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۸۲ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۴). ظفیر

اوبیایی دتکبیراتو ثلاثه وو څخه وروسته دوباره قرائت شروع کی، په دی صورة کی لمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی لمونځ وسو. کذا فی الشامی (١). فقط

داختر دلمانځه څخه وروسته دعا بدعت نه ده: **سوال**: (۲۲۳۵) داخترونو دلمانځه څخه وروسته دعاته بعض خلګ مکروه وایی، اوبعض ورته بدعت وایی اوبعض وایی چی مستحب ده؟

جواب: دلمونځونو څخه وروسته دعاء مسنون اومستحب ده اوپه احادیثو مبارکه ؤ کی راغلی ده، کما نقله فی الحصن والحصین وغیره، نوپه لمونځونوکی داخترونو لمونځ هم داخل اوشامل دی اودبدعت ویل ورته صحیح نه دی، او دامت اکابرو او استاذانو به داخترونو دلمانځه څخه وروسته په شان دصلواتو مکتوباتو دعاء فرمایله، نو څوك چی دي ته بدعت وایی نودا خبره صحیح نه ده (٢). فقط

داختر دلمانځه څخه مخکی یاوروسته په عیدګاه کی نفل کول څنګه دی؟ **سوال**: (۲۲۳٦) څه فرمائي علماء دین اومفتیان دشرع متین په دی مسئله کی چی په عیدګاه کی داختر دلمانځه څخه مخکی یا وروسته نفل کول دحنفی علماؤ په نزد روا دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ولا یتنفل قبلها مطلقا وکذا لا یتنفل بعدها فی مصلاها، قال الشامی قوله: وکذا لا یتنفل ؒ لما فی الکتب الستة عن ابن عباس ؓ انه ﷺ خرج فصلی بهم العید لم یصل ولا بعدها وهذا لقی بعدها محمول علیه فی المصلی الخ (٣)، والله اعلم. فقط

دمفسد صلوة لمونځ په صورة کی بل جماعت کولی سی: **سوال**: (۲۲۳۷) که چیری داخترونو امام غلط خوان وی نودهغه امامت جائزدی اوکه نه؟ اوبل امام کیدی نه سی ځکه چی عوام الناس یی نه غواړی، لهذا دښار په جوماتونو کی داخترونو لمونځ کول څنګه دی؟

جواب: داخترونو لمونځ په جوماتونو کی هم صحیح دی، که چیری داخترونو دلمانځه امام داسی غلطی کوی په کمی سره چی لمونځ فاسدیږی نو په جومات کی جلا جماعت

---

(١). ویدعوا ویختم بسبحان ربك الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص ٥٩٥ ، ط. س. ج٢ ص ٥٣٠) عن ام عطیة قالت امرنا ان نخرج الحیض یوم العیدین وذوات الخدور فیشهدن جماعة المسلمین ودعوتهم وتعتزل الحیض (مشکوٰة باب العیدین ص ١٢٥). ظفیر

(٢). الدر المختار باب العیدین ج١ ص١١۴ ، ط. س. ج٢ ص ١٦٩ - ١٧٠). ظفیر

(٣). وتؤدی بمصر واحد بمواضع کثیرة اتفاقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج١ ص ٧٨٣، ط. س. ج ٢ ص ١٧٦). ظفیر

کول په کاردی، (١) اوکه چیری داسی غلطی نه کوی کمه چی دلمانځه ماتونکی وی اوپه بیل لمونځ کولوکی فتنه وی (یعنی شر جوړیږی) نوپه همدغه امام پسی لمونځ وکړی (٢). فقط

تکبیرات تشریق دفرض لمانځه څخه وروسته صرف یووار دی: **سوال**: (٢٢٣٨) په ایام تشریق کی تکبیرونه صرف دهرفرض لمانځه څخه وروسته ویل کیږی، زید وایی چی یووار ویل واجب دی اوعمر وایی چی دری واره ویل په کاردی، په دی صورة کی څوك پرحقه دی؟

جواب: تکبیرات تشریق یووار ویل واجب دی، ددی څخه زیات واجب نه دی، اوپه درمختار کی یی دعینی څخه نقل کړی دی چی په زیاتو ویلو کی فضیلت اوثواب دی څه حرج پکښی نسته (٣)، لیکن په شامی کی یی دابو السعود څخه نقل کړی دی، چی دیو وار څخه زیات ویل خلاف سنت دی نوښه داده چی په یووار ویلو باندی بسوالی وسی. دشامی عبارت دادی، ان الاتیان به مرتین خلاف السنة الخ، ج١ ص ٥٢٣، شامی.

په دولسو تکبیرونو سره داخترونو لمونځ درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (٢٢٣٩) که حنفیان داخترونو لمونځ ددولسو تکبیرونو سره وکړی نواداء به سی اوکه نه؟

جواب: داحنافو په نزد شپږ تکبیرات زوائد دی، دوی ته دولس ویل نه دی په کار، او لمونځ په هرحال سره صحیح دی (٤). فقط

داختر لمانځه دپاره نغاره وهل جائزه ده اوکه نه؟ **سوال**: (٢٢٤٠) داختر دلمانځه دپاره نغاره وهل جائز دی اوکه نه؟

جواب: که چیره په قصد دتفاخر اوتلهی سره وی نوممنوع دی اوکه په طریقه داگاهی سره وی نوبیا جائزدی، ومن ذالك ضرب النوبة للتفاخر فلو للتنبيه فلا باس به الخ (٥) در مختار. فقط

---

(١). الفاسق اذا كان يؤم يوم الجمعة وعجز القوم عن منعه قال بعضهم يقتدى به فى لا جمعة ولا تترك الجمعة بامامة وفي غير الجمعة يجوز ان يتحول الى مسجد اخر ولا ياثم به (عالمگیری مصری فی الامامة ج١ ص٨١، ط. م. ج١ ص ٨٢). ظفير

(٢). ولا يجوز امامة الالثغ الذى لا يقدر على التكلم ببعض الحروف الا لمثله اذا لم يكن من يقدر على التكلم بتلك الحروف، فاما اذاكان فى القوم من يقدرعلى التكلم بها فسدت صلاته وصلاة القوم الخ ايضا ج١ ص٨٠ .ظ

(٣). ردالمحتار باب العيدين، ويجب تكبيرات التشريق فى الاصح للامر به مرة وان زاد عليها يكون فضلا قال العينى صفته الله اكبر الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العيدين مطلب فى تكبير التشريق ج١ ص ٧٨٤ - ٧٨٥، ط. س. ج٢ ص١٧٧ - ١٧٨). ظفير

(٤). ويصلى الامام بهم ركعتين مثنيا قبل الزوائد وهى ثلاث تكبيرات فى كل ركعة ولو زاد تابعه الى ستة عشر لانه مأثور (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العيدين ج١ ص ٧٧٩، ط. س. ج٢ ص١٧٢). ظفير

(٥). الدر المختار على هامش ردالمحتار، كتاب الحضر والاباحة، قبيل فصل فى اللبس ج ٥ ص ٣٠٢، ط. س. ج ٢ ص ٣٥. ظفير

دزاوئدو تکبیراتو په پرېښولو سره دجماعت اعاده: **سوال**: (۲۲۴۱) زید داختر لمونځ ورکی، لیکن دزوائدو تکبیراتو ویل ورڅخه هیرسول چی کله یی سلام وګرځوی، نو مقتدیانو ورته وویل چی لمونځ صحیح نه سو، نوزید دوباره لمونځ وکی، نوپه دغه دواړو لمونځونو کم یو لمونځ وسو، دا لمونځ په داسی کوچنی جومات کی سوی دی چی په هغه کی دامام دقرآئت اواز تراخر صفه پوری تللی سی؟

جواب: اول لمونځ سوی وو خو دواجب پاته کیدلو په وجهی سره ناقص سوی وو. په سجدی سهوی سره به دهغه انجبار سوی وو اوچونکی مجمع زیاته نه وه څنګه چی دسوال څخه معلومیږی، ددی وجه که په داسی موقع کی داخترونو په لمانځه کی هم سهوه وسی نوسجده سهوه کول په کاردی، لیکن چونکی سجده سهوه ونه سوه ددی دپاره اعاده لازمه وه، کمه چی وسوه، نو دلمانځه داعادی په کولو سره په لمانځه کی څه نقصان پاته نه سو اوس څه نقصان په لمانځه کی پاته نسو، اودا جماعت ثانیه دمخکنی لمونځ متمم اومکمِّل سو ([1]). فقط

داختر دلمانځه دپاره دمقتدیانو انتظار: **سوال**: (۲۲۴۲) داختر دلمانځه دپاره دمقتدیانو انتظار ترکم وخت پوری وسی؟

جواب: داخترونو دلمونځ دزوال څخه ترمخکی پوری یی وخت دی، نو تردغه وخته پوری یعنی دزوال څخه ترمخکی مخکی پوری دانتظار کولو څه بدیت (مضائقه) نسته دهغه څخه وروسته انتظار نسته ([2]). فقط

په اخترونو کی تکبیرات زوائد داحنافو په نزد شپږدی: **سوال**: (۲۲۴۳) په لاهور چهاؤنی کی دجامع جومات مخکنی امام فرمایل: چی په صحیح بخاری کی یی داختر دلمونځونو دولس تکبیرنه لیکلی دی. په یورکعات کی شپږ، په دی صورة کی صحیح حکم څه دی؟

جواب: داحنافو په نزد داخترونو په لمانځه کی تکبیرات زوائد شپږ دی یعنی په هر یوه رکعات کی دری دری. اودابوداود شریف دحدیث شریف څخه داثابت دی: وعن سعید بن العاص قال سئلت ابا موسٰی وحذیفه! کیف کان رسول الله ﷺ یکبر فی الاضحٰی والفطر: فقال ابو موسٰی کان یکبر اربعا فی الرکعة الاولی مع تکبیرة الاحرام وفی الثانیة مع تکبیرة الرکوع تکبیرة علی

([1]). والسهو فی صلاة العید والجمعة والمکتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتاخرین عدمه فی الاولین لدفع الفتنة کما فی جمعة البحر واقره المصنف وبه جزم فی الدر (درمختار) لکنه قیده محشیها الوافی بما اذا حضر جمع کثیر والا فلا داعی الی الترك (ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۷۵). ظفیر

([2]). ووقتها من الارتفاع قدر رمح فلا تصح قبله ؒ الی الزوال باسقاط الغایة (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۹ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۱). ظفیر

الجنائز فقال حذیفه صدق. رواه ابوداود. (۱) نومذهب دحنفیانو ددی حدیث شریف موافق دی، حنفی امام لره ددی خلاف کول نه دی په کار. (۲) فقط

په اخترونو کی دزیاتی تکبیراتو بحث: **سوال**: (۲۲۴۴) په بخاری شریف ترمذی شریف، او په مشکوٰة شریف کی ثابت دی چی داخترونو په لمانځه کی دولس تکبیرونه دی، یعنی په اول رکعات کی دقرآئت څخه مخکی اووه تکبیرونه اوپه دوهم رکعات کی دقرآئت څخه وروسته پنځه تکبیرونه، اوپه ترمذی شریف کی یوحدیث شریف دحضرت عبدالله بن مسعودؓ دنهو تکبیرونو په ثبوت کی مروی دی یعنی په اول رکعات کی دقرآئت څخه مخکی پنځه اوپه دوهم رکعات کی دقرآئت څخه وروسته څلور. لیکن په دی زمانه کی دستور العمل دادی چی داخترونو په لمانځه کی شپږ تکبیرات ویل کیږی کم چی دذکر سوو احادیثو څخه سراسر خلاف دی. ددی احادیثو مبارکه ؤ څخه ښه اوافضل کم یو حدیث شریف دی، چی دهغه څخه دشپږو تکبیراتو جواز ثابتیږی؟ او دمذکوره احادیثو مبارکو څه حکم دی؟

جواب: دحنفیانو دلیل داحدیث شریف دی: وعن سعید بن العاص قال سئلت ابا موسٰی وحذیفه! کیف کان رسول الله ﷺ یکبر فی الاضحٰی والفطر: فقال ابو موسٰی کان یکبر اربعا فی الرکعة الاولی مع تکبیرة الاحرام وفی الثانیة مع تکبیرة الرکوع تکبیرة علی الجنائز فقال حذیفه صدق. رواه ابوداود (۳). والتفصیل فی کتبه الفقه، اوپه کم روایت کی چی نهه تکبیرونه په دواړو رکعاتونو کی واردی دهغه څخه مراد هم شپږ تکبیرونه زوائد دی، ځکه چی په مخکی رکعات کی تکبیر تحریمه اودرکوع تکبیر شامل دی اوپه دوهم رکعات کی درکوع تکبیر داخل دی. فقط

دتکبیرات تشریق قضاء نسته: **سوال**: (۲۲۴۵) که چیری تکبیرات تشریق قضاء سول نوهغه بیا اداء کړی، اوکه دهغه په ترك کوونکی باندی به څه مؤاخذه نه وی.

جواب: که تکبیرات تشریق چیری دغه وخت ترك سول نو بیا دهغه قضاء نسته، په توبی کولو سره به دهغه دپرینښوولو ګناه معاف سی (۴).

که چیری په عیدګاه کی غیرمقلدین مخکی لمونځ وکړی نودهغه اعتبارنسته: **سوال**: (۲۲۴۶)

---

(۱). وګوری مشکوٰة مع حاشیه باب صلوٰة العیدین ص ۱۲۲. ظفیر

(۲). دتفصیل دپاره وګوری غنیة المستملی باب العیدین ص ۵۲۷. ظفیر

(۳). مشکوٰة شریف باب صلوٰة العیدین ص ۱۲۲، دتفصیل دپاره وګوری غنیة المستملی باب العیدین ص۵۲۷.

(۴). عقب کل فرض بلا فصل الخ (درمختار) فلو خرج من المسجد اوتکلم عامدا اوساهیًا اوحدث عامدا سقط عنه التکبیر (ردالمحتار باب العیدین مطلب فی تکبیرالتشریق ج۱ ص ۷۸۲، ط. س. ج۲ ص ۱۷۷-۱۷۹). ظ

كه دحنفي امام داجازى څخه بغير دضد په طور غير مقلده فرقه په حنفي مصلى باندى دهغوى دامام څخه مخكى لمونځ وكړى او ولاړ سى نو دمقرر امام دجماعت په فضيلت كى به څه كمى خونه وى؟

جواب: غير مقلدينو لره داسى كول ناجائز دى او دهغوى دجماعت څه اعتبار نسته. او د حنفيانو كم جماعت چى وروسته وسو هغه معتبر دى دهغه په فضيلت اوثواب كى به څه كمى رانسى.

نوى عيدګاه جوړول: **سوال**: (۲۲۴۷) دډيرى مودى څخه راپه دى خوا موجوده عيدګاه ديو هندو په ملكيت كى قائمه ده، دملكيت حق يى ترك كړى دى، ليكن دابادى څخه ديو ميل دزياته فاصله كيدلو څخه علاوه دباران په موسم كى لاره خرابه وى، دولسوالۍ دمسلمانانو دمنشاء مطابق نوى عيدګاه دمسلمانانو په ملكيت كى جوړول ناجائز دى اوكه نه؟ او داولنى عيدګاه شهيدلولو څخه وروسته دهغه اسباب (خښتى، دروازې، كړكۍ وغيره) په نوى عيدګاه كى ولګول سى اوكه نه؟ دنوى عيدګاه دتيارولو څخه وروسته دزړى عيدګاه مزكه دمالك دخواهش مطابق هغه ته وركول سى اوكه نه مسلمانان يى په خپله قبضه كى وساتى؟

جواب: كه چيرى هندو خپل ملكيت ترك كړى وو اومسلمانانو لره يى دغه مزكه دعيدګاه دپاره وركړى وه نودغه مزكه وقف سوه دهغه اسباب وغيره په بله عيدګاه كى لګول او هغه هندو لره واپس وركول جائزنه دى. فقط

په يوه ښار كى دوې عيدګاوې: **سوال**: (۲۲۴۸) كه چيرى په يوښار كى دوى عيدګاوى وى اودوه ځايه داخترونو لمونځ كيږى نوڅه حكم دى؟

دابادى څخه په دباندى عيدګاه كى داختر لمونځ ښه دى: **سوال**: (۲۲۴۹\۲) چى ديوى حصى (ابادى) عيدګاه دښار څخه دباندى وى اودبلى حصى عيدګاه په ښار كى وى، نو لمونځ كول په كمه عيدګاه كى ښه دى؟

جواب: \۱\: په دوو عيدګاؤ كيدلو، اودوه ځايه داخترونو په لمونځ كيدلو كى څه حرج نسته ([1]).

\۲\. دسنت طريقى موافق دښار څخه دباندى داخترونو لمونځ اداء كول ([2]) ښه دى اوپه دى كى فضيلت دى په ښار كى داداء كولو په نسبت سره. فقط

([1]). وتؤدى بمصر واحد بمواضع كثيرة اتفاقا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العيدين ج۱ ص۷۸۳ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۲). ظفير

([2]). ثم خروجه ﷺ ماشيا الى الجبانة وهى المصلى العام والخروج اليها اى الى الجبانة لصلاة العيد سنة (در =

دقصابانو په جوړه کړی عیدګاه کی لمونځ درست دی: **سوال:** (٢٢٥٠) دلته قصابانو عیدګاه جوړه کړیده په هغه کی دغیرو قصابانو داختر لمونځ صحیح دی اوکه نه؟ او عیدګاه نن سبا جوړه سویده، ایا دحضور ﷺ په زمانه کی هم داسی وه اوکه نه؟

جواب: دغیرقصابانو داخترلمونځ دقصابانوقوم په دغه عیدګاه کی صحیح دی. اوحضور ﷺ به داخترونو لمونځ باهر په ځنګل کی په عیدګاه کی اداء کوی اوهمدا (طریقه) سنت ده ([1]). فقط

تکبیرات تشریق دجماعت څخه وروسته دی دیوازی لمونځ څخه وروسته نسته: **سوال:** (٢٢٥١) زید دایام تشریق تکبیرونه کم چی دلمانځه څخه وروسته واجب دی په هر لمانځه کی ځینی هیرسی، اوزید یوازی لمونځ کوی، آیا دتکبیر په نه ویلو سره په لمانځه کی څه نقصان کیږی اوکه نه؟

جواب: دایام تشریق تکبیرونه پرهغه خلګو باندی واجب وی، څوك چی په جماعت سره لمونځ اداء کړی اوکه یو سړی یوازی لمونځ وکړی نوپر هغه باندی تکبیر ویل واجب نه دی او دهغه په لمانځه کی په تکبیر نه ویلو سره څه نقصان نه راځی. ([2]) فقط

په اخترونو کی دتکبیرونو څخه وروسته دی دارسال څخه بغیر لاسونه وتړی: **سوال:** (٢٢٥٢) داخترونو په لمانځه کی په تکبیرات ثلثه زوائدو کی خو به دهر یو تکبیر ویلو څخه وروسته ارسال یدین کوی اوددریم تکبیر څخه وروسته به ارسال یدین کوی بیابه دواړه لاسونه تړی اوکه دارسال څخه بغیر به یی تړی؟

جواب: داخترونو په لمانځه کی په تکبیرات ثلاثه زوائدو کی دی په مخکنی رکعات کی په دوو تکبیرونو کی ارسال یدین وکړی، اوددریم تکبیر څخه وروسته دي لاسونه وتړی ځکه چی داوخت دقرآئت دی. اوپه دوهم رکعات کی ددریم تکبیر څخه وروسته دي په ارسال یدین کولو سره درکوع تکبیر ووایی اورکوع ته دي ولاړ سی ([3]). فقط

= مختار) ای فی الصحراء (ردالمحتار باب العیدین ج١ ص ٧٧٢ ، ط. س. ج٢ ص١٢٨). ظفیر

([1]). والخروج الیها ای الجبانة لصلاة العید سنة وان وسعهم المسجد الجامع هو الصحیح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج١ ص٧٧٢ ، ط. س. ج٢ ص ١٢٩). ظفیر

([2]). ویجب تکبیر التشریق مره الخ عقب کل فرض بلا فصل ادی بجماعة مستحبة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج١ ص ٧٨۴ وص٧٨٢ ، ط. س. ج٢ ص ١٧٧ وص ١٧٩). ظفیر

([3]). ووضع الرجل یمینه علی یساره تحت سرته ⁄ کما فرغ عن التکبیر بلا ارسال فی الاصح وهو سنة قیام ⁄ له قرار فیه ذکر مسنون فیضع حالة الثناء وفی القنوت وتکبیرات الجنازة لایسن فی قیام بین رکوع وسجود لعدم القرار لا بین تکبیرات العید لعدم الذکر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلاة. فصل تالیف الصلاة ج١ ص ۴۵۵ ، ط. س. ج٢ ص۴٨٢ – ۴٨٧) ویرفع یدیه فی الزوائد الخ ولیس بین تکبیراته ذکر =

كه چيري څه خلك دعذر په وجهي سره په جومات كي داختر لمونځ اداء كړي نودرست دي:

سوال: (٢٢٥٣) يوسړى قاضى امام دمسجد عيدګاه ته دباجي سره ځي، څوكسانو هغه منع كړى ليكن هغه ونه منله نوهغه خلګ عيدګاه ته دلمانځه دپاره ولانه ړل، بلكه په جومات كي يي څوك امام كي اوداختر لمونځ يي وكي، نودغه خلګ په جومات كي لمونځ كولى سى اوكه نه؟

جواب: ددغه خلګو لمونځ (څوك چي دذكر سوى قاضى سره دعيدګاه په لمانځه كي شريك نه سول اوپه جومات كي يي بل څوك امام جوړكى او داختر لمونځ يي اداء كى) صحيح دى، ځكه چي داختر لمونځ په ښار كي هم اداء كيږي ليكن سنت دادى چي داخترونو لمونځ دباندى ځنګل ته په تللو سره اداء سى، كما فى الدر المختار والخروج اليها اى الجبانة لصلٰوة سنة وان وسعهم المسجد الجامع الخ وفى الشامى تحت قوله اى الجبانة وهو المصلى العام اى فى الصحراء، بحر عن المغرب. شامى ([1]). فقط

دهندو دمزكي دعيدګاه دپاره دقبلولو صورة: **سوال:** (٢٢٥٤) دسيانه ولسوالۍ دعيدګاه دوسيع كولو ضرورت دى دهغه څخه چاپيره ديوسرمايه دار هندو مزكه ده، هغه دوركولو وعده كړيده، نودهغه په عطاء كړي ځمكه كي دتصرف دجواز څه صورة دى؟

دوقفي عيدګاه هيڅ يوه حصه هيچا ته نسي وركول كيدي: **سوال:** (٢٢٥٥) په كم جانب كي چي ذكر سوى مالداره سړى خپله مځكه دعيدګاه په صحن كي شاملول غواړى دهغه طرف ديوال دكعبى طرف ته په صحيح كولوكى ديومثلث شكل ګنج دزړى عيدګاه دفرش څخه جلا كيږي، دغه ځاى ذكر سوى مالدار صاحب په خپل كنبت كي شاملول غواړي. لهذا دغه ګنج هغه لره وركول جائزدي اوكه نه؟

جواب: \١\. دهغه دجواز صورة بلا اختلاف دادى چي مالدار صاحب دى ذكر سوى مځكه په قدر دحاجت جلا كړي اوښبانه دي باندى ولګوى اوديو مسلمان په ملكيت كي دي وركړي، بيا دي دغه مسلمان دغه مځكه وقف كړي ځكه چي پخپله دمالدار صاحب د وقف پرجواز دفقهي رواياتو مطابق تردد اوشك دى.

\٢\. دوقف سوى عيدګاه څه حصه او دګنج وركول صحيح نه دى ځكه چي په وقف كي يو داسي تصرف دهبى اودبيع ياپه مبادلى سره درست نه دى. ([2]) فقط

= مسنون ولذا يرسل يديه (درمختار) اى فى اثناء التكبيرات ويضعهما بعد الثالثة الخ (باب العيدين ج١ ص٧٨٢ ، ط. س. ج٢ ص١٧٤). ظفير

([1]). ردالمحتار باب العيدين ج١ ص٧٧٢ ، ط. س. ج٢ ص١٧٥) ليكن دباجي سره تلل ګناه ده دغه خلګو لره ددى كار څخه توبه كښل په كاردى. ظفير [باقى]

عیدگاه ته پیاده تلل سنت دی پیسی شینډل درست نه دی: سوال: (۲۷۵۶) عیدگاه ته داختر دلمانځه دپاره پرسپرلی تلل راتلل او دخپل طرف څخه روپی، پیسی، ددوو روپو نوټ، وغیره غورزول جائزدی اوکه نه؟

جواب: سنت دادی چی عیدگاه ته پیاده ولاړ سی پر سپرلی تلل یی خلاف سنت لیکلی دی اوکه په بیرته راتلوکی سپور راځی نودایی جائز لیکلی دی، کذا فی الدر المختار (۱)، اوپیسی شینډل هم درست نه دی. فقط

په جیل کی داختر لمونځ: سوال: (۲۷۵۷) په جیل کی داختر لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: دجُمعې اوداخترونو لمونځ په جیل خانه کی واجب نه دی (۲) او په اداء کیدلو کی یی هم کلام دی (۳). فقط

دزوال څخه وروسته داختر لمونځ درست نه دی ، دعذر په وجه سره په دوهمه ورځ دکولو اجازت: سوال: (۲۷۵۸) دباران دېیروالی په وجهی سره دلوی اختر لمونځ په مقرر وخت باندی ونه سو نوپه دی صورة کی په دوهمه یا دریمه ورځ اداء کول پکار دی لیکن جاهلانو او ناخبرو خلګو په همدغه ورځ دوه یادری بجی لمونځ اداء کړی نو ایا لمونځ صحیح سو اوکه نه اعاده یی کول په کاردی؟

جواب: قال فی الدر المختار: وتؤخر بعذر کمطر الی الزوال من الغد فقط، فوقتها من الثانی کالاول ولو تکون قضاءً لا اداءً الخ وفی الشامی قوله فقط الخ راجع الی قوله بعذر فلا تؤخر من غیر عذر والی قوله الی الزوال فلا تصح بعد والی قوله من الغد فلا تصح فیما بعد غد ولو بعذر الخ شامی (۴) نو

---

(۲). فاذا اتم الوقف ولزمه لایملك ولا یملك ولایعار ولایرهن (درمختار) لایملك ای لایکون مملوکه لصاحبه ولا یملك ای لایقبل التملیك لغیره بالبیع ونحوه (ردالمحتار الوقف ج۱ ص۵۰۷ ، ط.س. ج۲ ص۳۵۱-۳۵۲). ظفیر

(۱). ثم خروجه الخ ماشیا الی الجبانة الخ ولا یعوده راکبًا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۶ – ۷۷۷ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۸). ظفیر

(۲). وشرط لافتراضها تسعة تختص بها اقامة بمصر الخ وصحة الخ وعدم حبس الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۲۴ ، ط. س. ج۲ ص۱۵۲). ظفیر

(۳). داذن عام شرط چونکی نه دی موجود، ددې وجی څخه دبعضو خلګو ذاتی رجحان دجواز طرف ته دی، په موجوده دور کی کله چی په یو ښار کی دجمعی دتعدد پرجواز باندی فتوٰی اوعمل دواړه دی. داذن عام شرط محض لغوه دی په درمختار اوپه شامی کی چی کم بحث مذکور دی دهغه څخه هم جواز ثابتیږی داذن عام دبحث په ختمولو سره علامه شامی تحریر فرمایي: قلت وینبغی ان یکون محل النزاع ما اذا کانت لا تقام الا فی محل واحد، اما لو تعدد فلا لانه لا یتحقق التفویت کما افاده التعلیل تامل (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۷۲ ، ط. س. ج۲ ص۱۵۲) په خپله مفتی علام په باب الجمعه کی په بنده قلعه کی دننه دجمعی جواز ثابت کړی دی اوپوره بحث یې کړیدی کم چی په فکر سره مطالعه کول په کاردی. ظفیر

(۴). وګوری ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص۷۸۳. ظفیر

واضحه سوه چې دزوال څخه وروسته کم داختر لمونځ وسو هغه صحیح نسو په بله ورځ يې دزوال څخه مخکې اداء کول په کاردي، او ددې څخه وروسته قضا جائز نه ده. فقط

داخترونو لمونځ هم واجب دی اوتکبیرات زوائد هم: **سوال**: (۲۲۵۹) داخترونوپه لمانځه کې شپږ تکبیرونه واجب دي يادوه رکعاته لمونځ هم واجب دی، که چیرې يو امام په خلګو داسې نيت وکړي چې دوه رکعاته دلوی اختر نفل لمونځ سره دشپږو واجبو تکبیرونو ﷺ چونکه دنفل لفظ په خلګو وويل سو نولمونځ درست سو اوکه نه؟

جواب: داخترونو لمونځ هم واجب دی اوداخترونو تکبیرونه هم واجب دي (۱)، آئنده په نيت کې نفل لمونځ ويل نه دي په کار. بلکې دواجب ويل په کاردي، ياپه زړه کې داخيال کول په کاردي. اولمونځ په دې صورة کې هم وسو، ځکه چې دنفلو لفظ په ويلو سره په لمانځه کې فساد رانغی. (۲) فقط

تکبیرات تشریق صرف يووار ويل سنت دي: **سوال**: (۲۲۶۰) تکبیرات تشریق ديو وار څخه زيات ويل جائز دي اوکه نه؟

جواب: ديوه وار ويلو حکم دی، اوزيات ويل خلاف سنت دي.

داختر په حديث شريف کې ددعوت دلفظ څه مطلب دی؟ **سوال**: (۲۲۶۱) وعن ام عطية قالت امرنا نخرج الحيض يوم العيدين وذوات الخدور فيشهدن جماعة المسلمين ودعوتهم وتعتزل الحيض عن المصلى، دلفظ د: دعوتهم څخه څه مراد دی، بعضې وايي چې داحديث شريف منسوخ دی.

جواب: دلفظ د: دعوتهم عام دی کمه دعاء چې دلمانځه څخه وروسته کيږي هغه هم په دې کې داخله ده، اودې ته منسوخ ويل غلط دي.

په اخترکې دخطبې څخه وروسته دعاء نسته: **سوال**: (۲۲۶۲) په بنګال کې دستور دی چې داخترونو دلمانځه څخه وروسته ددعاء کولو څخه وروسته خطبه وايي چې خطبه پوره کړي نوبيا دعاء کوي ايا دا دسنتو تغير دی اوکه نه؟

جواب: دخطبې څخه وروسته بيا دعاء نسته، دامعمول پرېښوول په کار دي، صرف دلمانځه څخه وروسته دعاء وکړي کمه چې ثابته ده.

په وقف عیدګاه کې تصرف درست نه دی: **سوال**: (۲۲۶۳) بادشاهي عيدګاه تر کمې لاندې

---

(۱). تجب صلاتهما في الاصح على من تجب عليه الجمعة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العيدين ج۱ ص۷۷۴، ط. س. ج۲ ص۱۶۶). ظفير

(۲). ولو علم ولم يميز الفرض من غيره ان نوى الفرض في الكل جاز (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلاة ج۱ ص ۳۸۸، ط. س. ج۱ ص ۴۱۸). ظفير

چې انعامی مځکه ده اودسرکار څخه خطیب ته ماسوا دانعامی مځکې څخه داخترونو خلعت هم ورکول کیږي، دښار دابادی په وجه ذکر سوی عیدګاه په ابادی کې راغلی ده لیکن تراوسه پوری په دی عیدګاه کې داخترونو لمونځ کول کیږي. دعیدګاه مځکه بالکل ازاده ده په دی کې هیڅ قسم عمارت نسته، اوس که چیری په دی عیدګاه کې څه عمارت جوړسی نو دعیدګاه حیثیت خرابیږي، او عیدګاه نه پاته کیږي نوپه دی کې عمارت جوړول جائزدی اوکه نه؟ په عمارت جوړولو سره دانعامی مځکې دضبط کیدلو اندیښنه ده. فقط

جواب: دغه عیدګاه وقف ده په دی کې هیڅ قسم تصرف تعمیر دکور وغیره درست نه (۱) دی، البته که چیری دلمونځ ګذارو دآرام دپاره دلمر او دباران څخه دبچ کیدلو دپاره یوه حصه مسقف سی دجومات په شان، نوپه دی کې هیڅ حرج نسته. فقط

دعیدګاه په تعمیر کې دهندو روپی لګول جائز دي: **سوال**: (۲۲۲۴) دعیدګاه په تعمیر کې دهندوانو روپی اخیستل جائزدی اوکه نه؟

جواب: جائزدی. فقط

دعیدګاه مځکه خرڅیدلی نسي: **سوال**: (۲۲۲۵) په کهنډوه کې عیدګاه ته نژدی دکانو را ایستلو کنده ده کمه چې مخکې پرډیره فاصله باندی وه، لیکن اوس دومره نژدی سویده چې کم وخت په کانې کې سوری لګول کیږي نودعیدګاه دیوالونه وښوری چې دهغه سره ددی دنړیدلو احتمال دی، لهذا که چیری سرکار دعیدګاه دمځکې اوعمارت معاوضه ورکړی نوپه بل ځای کې عیدګاه جوړیدلی سی؟ اوموجوده عیدګاه سرکار په خپل کار راوستلی سی اوکه نه؟

۲\ : عیدګاه دجومات په حکم کې ده اوکه نه؟

جواب: ۱\، ۲. عیدګاه وقف وی اودجومات په حکم کې ده، داتصرف کول درست نه دی (۲). فقط

په عیدګاه کې لوبه اوتماشا درسته نه ده: **سوال**: (۲۲۲۶) په عیدګاه کې دننه په عام اعلان کولو سره دلوبو، تماشو او دکشتی کار کول یا هارمونیم اوباجې ږغول اوغزل ویل دعیدګاه دمتولی داجازی څخه بغیر شرعًا جائزدی اوکه نه ؟

---

(۱). فاذا تم الوقف ولزم لایملك ولا یملك ولایعار ولایرهن (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الوقف ج۱ ص۵۰۷ ، ط. س. ج۲ ص۳۵۱ – ۳۵۲). ظفیر

(۲). اذا تم الوقف ولزم لایملك ولا یملك ولایعار ولا یرهن (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الوقف ج۱ ص۵۰۷ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۱ – ۳۵۲). ظفیر

جواب: عیدگاه په ډیرو امورو کی دجومات په حکم کی ده، ددی وجه په عیدگاه کی لوبه تماشا اوکشتی وغیره کول او هارمونیم اوباجه ږغول اوغزل ویل داټول امور محرمه حرام اوناجائز دی، دعیدگاه متولی هرگز ددی امورو اجازه چاته نسی ورکولی، اوبغیر داجازی څخه یاسره داجازی دمتولی هم هیچاته په عیدگاه کی ددی امورو ارتکاب کول درست نه دی، هکذا فی الدر المختار والشامی ([1]) فقط

په اخترونو کی دتکبیراتو زوائدو شمیر اودهغه دخلاف ورزی اثر: **سوال**: (٢٢٢٧\١) دلمانځه په وخت کی امام صاحب پرځای دشپږو تکبیرونو په خلگو باندی دنهو تکبیرونو نیت وتړی، اوچی لمونځ یی وکی، نوصرف اووه تکبیرونه یی وویل. نودا لمونځ درست سو اوکه نه؟ داخترونو په لمانځه کی شپږ تکبیرونه ښه دی اوکه زیات؟

داختر په خطبه کی نورنامه وغیره ویل درست نه دی: **سوال**: (٢٢٢٨\٢) امام داختر دلمونځ ورکولو څخه وروسته خطبه شروع کړه اواږده خطبه یی وویل اومقتدیان په لمرکی ناست وه. اوامام په خطبه کی نور نامه او وفات نامه وویله، داڅنگه دی؟

جواب: ١\ لمونځ صحیح سو اوتکبیرات زوائد په هریوه رکعات کی دری تکبیر زوآئد دی، یعنی ټول شپږ تکبیرات زوائد دی. ددی څخه زیات په حنفی مذهب کی نسته ([2]).

٢\ خطیب لره داسی کول مکروه اوممنوع دی، په خطبه کی اختصار کول په کاردی خصوصاً په داسی وخت کی ډیر اختصار کول په کاردی ([3])، اووفات نامه اونور نامه وغیره ویل درست نه دی. فقط

چاچی داختر په لمونځ کی رکوع ونه کړه دهغوی لمونځ صحیح نه سو: **سوال**: (٢٢٢٩) دکوچنی اختر په دوهم رکعات کی دامام څخه تکبیرات زوائد هیرسوه اورکوع ته ولاړی اومقتدیان ولاړ پاته سوه اوامام سجدی ته ولاړی، بیا مقتدیان هم سجدی ته ولاړل او رکوع داکثرو مقتدیانوونه سوه امام سجده سهوه وکړه نولمونځ دامام اودمقتدیانو وسو

([1]). اما المتخذ لصلاة جنازة اوعید فهو مسجد فی حق جواز الاقتداء ﴿ لا فی حق غیر به یفتی، نهایه، فحل دخوله لجنب وحائض کفناء مسجد ﴿ (درمختار) قال فی البحر ظاهره انه یجوز الوطؤ والبول والتخلی فیه، ولا یخفٰی ما فیه فان البانی لم یعده لذالك فینبغی ان لا یجوز (ردالمحتار باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها مطلب فی احکام المسجد ج١ ص١٢٥ ، ط. س. ج٢ ص ٢٥٧). ظفیر

([2]). وهی ثلاث تکبیرات فی کل رکعة ولو زاد تابعه الی ستة عشر لانه ماثور (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب العیدین ج١ ص ٧٧٩ – ٧٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ١٧٢) . ظفیر

([3]). عن جابر بن سمرة قال کانت للنبی ﷺ خطبتان یجلس بینهما یقرأ القرآن ویذکر الناس فکانت صلوته قصداً وخطبته قصداً، رواه مسلم. وعن عمارقال سمعت رسول الله ﷺ یقول ان طول صلوة الرجل وقصر خطبة ای مئنته من فقه فاطیلوا الصلوة واقصروا الخطبة. رواه مسلم (مشکوٰة باب الخطبة والصلوة ص ١٢٣). ظفیر

اوکه نه؟ که چیری نه وی سوی نوتر کم وخته پوری قضاء کولی سی؟

جواب: په دی صورة کی دامام لمونځ او کمو مقتدیانو چی رکوع کړی ده، دهغوی دا وسو، اوکمو خلګو چی رکوع نه ده کړی دهغوی لمونځ ونه سو هغوی دي دوه رکعاته وروسته وکړی (١). فقط

تکبیرات تشریق په کلی کی ویل په کاردي: **سوال**: (٢٢٧٠) په کلی کی تکبیرات تشریق ویل په کاردی اوکه نه؟ دکشمیر په عالمانو کی په دی باره کی اختلاف دی. دچا قول معتبر دی؟

جواب: حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دکلی پرخلګو باندی تکبیرات تشریق ته واجب نه فرمایی، اوصاحبین یی واجب فرمایی. په درمختار کی دی: ویجب تکبیر التشریق الخ علی امام مقیم بمصر وعلی مقتد مسافر قروی الخ وقالا بوجوبه فور کل فرضٍ مطلقاً ولو منفرداً او مسافراً او امرأةً لانه تبع المکتوبة الخ وعلیه الاعتماد والعمل والفتوٰی فی عامة الامصار وکافة الاعصار الخ (قوله: مقیم بمصر) فلا یجب علی قری ولا مسافر الخ علی الاصح بحر عن البدائع ای الاصح علی قول الامام الخ قوله وعلیه الاعتماد الخ هذا بناء علی انه اذا اختلف الامام وصاحباه فالعبرة لقوة الدلیل وهو الاصح (٢) شامی. ددی عبارتونو څخه معلومه سوه چی معتمد اواحوط په دی باره کی قول دصاحبینو دی چی دکلی پرخلګو باندی واجب دی چی تکبیرات تشریق دي ووایی. فقط

داخترونو خطبه دصفونو په مینځ کی په منبر ایښوولو سره ویل څنګه دي؟ **سوال**: (١\٢٢٧١) که چیری امام دخلګو دډیروالی په وجه دخپل ځای څخه ولاړ سی، او دصفونو په مینځ کی منبر کښیږدی اوخطبه ووایی نودا جائز دی اوکه مکروه دی؟

په عیدګاه کی په اواز یوځای کولو سره په جهر سره تکبیر درست نه دی: **سوال**: (٢\٢٢٧٢) په عیدګاه کی په داشان تکبیر ویل چی اول یوسړی تکبیر ووایی، دهغه څخه وروسته نورخلګ اواز یوځای کړی اوپه متفقه طور باندی تکبیر ووایی، همدغه رکم دلمانځه تر اخره پوری داسلسله جاري ولری نودا شرعًا جائز بلا کراهته دی اوکه نه مع الکراهت؟

جواب: ١\. ظاهره خودا ده چی جائز دی بلا کراهت، کله چی ددی ضرورت (٣) وی.

---

(١). کما لو رکع امامه فرکع معه مقارنا اومعاقبا وشارکه فیه فلولم یرکع اصلا الخ بطلت صلاته (ردالمحتار باب صفة الصلوة ، مهم متابعة الامام ج١ ص ٤٣٩ ، ط. س. ج ٢ ص ٤٧١). ظفیر

(٢). ردالمحتار باب العیدین ج١ ص٧٨٤ ، ط. س. ج٢ ص ١٧٧ اوص١٨٠. ظفیر

(٣). په باب العیدین کی هیڅ چیری څه صراحت پیدا نه سو، لیکن په باب الجمعة کی صراحت دی: اذاجلس علی المنبر فاذا اتم اقیمت (درمختار) قوله المنبر هو الارتفاع وهوالسنة ان یخطب علیه اقتداء به ﷺ بحر. وان یکون علی یسار المحراب قهستانی (ردالمحتار باب الجمعة ج١ ص٧٧٠ ، ط. س. ج٢ ص١٢١) ددی څخه معلومه =

٢١. داجائز نه دى اوپه دى كى كراهت دى. كذا ورد فى الاحاديث عن ابن عباس وجابر بن عبد الله قالا: لم يكن يؤذن يوم الفطر ولا يوم الأضحى ثم سألته يعني عطاءً بعدحين عن ذلك فأخبرني قال: أخبرني جابر بن عبد الله أن لا أذان للصلاة يوم الفطر حين يخرج الإمام ولا بعد ما يخرج ولا إقامة ولا نداء ولا شيء ولا نداء يومئذ ولا إقامة. رواه مسلم. ([1]) فقط

داخترونو په تكبيرات زوائدو كى كه چيرى ارسال ونه كړى نوځه حكم دى؟ سوال: (٢٢٧٣)

امام په كوچنى اختركى پنځه تكبيرونه زوائد وايى، او دهر تكبير څخه وروسته لاسونه پرنامه باندى تړى. يعنى ارسال نه كوى. امام يوازى خطبه اولمونځ په محراب كى كوى، دهريو دوو تكبيرونو په مينځ كى درود شريف وايى اودعاء غواړى اوپه خطبه كى ويل غلط كوى نو دهغه لمونځ به درست سى اوكه څنګه؟

جواب: كم امور چى ددغه امام څخه صادر سول دلمانځه دفساد موجب نه دى. البته دسنت خلاف دى. نو آئنده دى هغه ته تاكيد وسى چى درى تكبيرونه زوائد دى په هر ركعات كى وايى، او دلاسونو پورته كولو سره دي تكبير وايى اودلاسونو ارسال دي كوى، اوځنګه چى دحنفى فقهى په كتابونو كى مذكور دى دهغه موافق دي عمل كوى ([2]). فقط

داختر دلمانځه څخه وروسته دنبى كريم ﷺ څخه دعاء ثابته ده اوكه نه؟ سوال: (٢٢٧٤)

داخترونو دلمانځه څخه وروسته يا دخطبى څخه وروسته دنبى كريم ﷺ څخه ددعاء غوښتل ثابت دى اوكه نه؟ عن أم عطيه ان رسول الله ﷺ كان يخرج لابكار والعواتق الخ فى العيدين الحديث، زيدوايى چى ددى حديث شريف څخه داخترونو دلمونځ اودخطبى څخه وروسته ددعاء غوښتل ثابت دى داخبره صحيح ده اوكه نه؟

جواب: ددى حديث څخه وروسته دخطبى وغيره څخه دعاء غوښتل ثابت نه دى، ځكه چى ددعوة المسلمين څخه مراد اجتماع المسلمين ده اوخطبه وغيره ده. البته داختر دلمانځه څخه وروسته دعا غوښتل دهغه احاديثو دعموم څخه ثابت دى په كمو كى چى بعد الصلوٰة دعاء غوښتل مستحب معلوميږى. اودهغه څخه داخترونو دلمانځه دمستثنٰى

= سوه چى كه چيرى دضرورت په وخت كى كه په يو بل ځاى كى منبر كښى ښوول سى اوخطبه ووايي نوهيڅ څه بديت يې نسته. هسى خو سنت دادى چى دمحراب په خواكى دى وى. والله اعلم. ظفير

([1]). مشكوٰة باب العيدين فصل ثالث ص ١٢٧. ظفير

([2]). ويرفع يديه فى الزوائد ﴿ وليس بين تكبيراته ذكرمسنون ولذا يرسل يديه (درمختار) اى فى اثناء التكبيرات ويضعهما بعد الثالثة كما فى شرح المنية لان الوضع سنة قيام طويل فيه ذكر مسنون (ردالمحتار باب العيدين ج١ ص ٧٨٢، ط. س. ج٢ ص ١٧٤ – ١٧٥). ظفير

کیدلوهیڅ وجه نسته اوهغه احادیث مبارکه په حصن حصین وغیره داحادیثو په کتابونو کی مذکوردی (١). البته دخطبی څخه وروسته دعاء غوښتل وارد سوی نه دی. نه عموماً اونه خصوصاً.

دتکبیرات تشریق په سلسله کی دامام صاحب رحمه الله قول احوط دی اوکه دصاحبینو؟ سوال:

(**٢٢٧٥**) دتکبیرات تشریق په باره کی دامام صاحب رحمه الله دامذهب دی چی مقیم وی او په ښارکی وی اوفرض لمونځ په جماعت مستحبه سره وکړی نوپه هغه باندی تکبیرات تشریق واجب دی، اوصاحبین یی مطلقا واجب فرمایی برابره خبره ده که سړی وی اوکه ښځه وی، یامنفرد وی اوکه مسافر وی، نوپه دی صورة کی احوط او اولی کم یو دی؟

جواب: دا ظاهره ده چی دصاحبینو قول احوط دی اوعمل کول په دی باندی مختار او احوط دی، لیکن دوجوب په باره کی اکثرو عالمانو دامام صاحب رحمه الله مذهب اختیار فرمایلی دی. یعنی وجوب په همدغه شرائطو سره. باقی داچی که چیری منفرد اومسافر وغیره هم تکبیر تشریقووایی نوڅه حرج پکښی نسته، ځکه چی په دی باندی فتویٰ ورکول سویده (٢). فقط

صرف په نیت سره دعمل څخه بغیر لمونځ نه کیږی: سوال: (**٢٢٧٦**) یوڅو کسان عیدګاه ته هغه وخت ورسیدل چی لمونځ سوی وو، امام صاحب وویل چی چونکی تاسی دلمانځه دکولو په نیت سره راغلی یاست، نوستاسی لمونځ صحیح سو، اوهغوی لمونځ ونه کی، نو ایا دلمانځه په نیت کولو سره لمونځ کیږی؟ اوپه عیدګاه کی دوباره لمونځ کیدی سی اوکه نه؟

جواب: مفتیٰ به قول دادی چی داخترونو دلمانځه تعدد درست دی یعنی په ډیرو ځایونو کی په یوه ولسوالۍ اوښار کی داخترونو لمونځ کیدی سی، نوکم کسان چی وروسته راغلل هغوی ته داجائز وه چی دعیدګاه څخه علاوه په یو بل ځای په میدان یاجومات کی یی داختر لمونځ اداء کړی وای ځکه چی په دغه عیدګاه کی بله جُمعه ورکول مکروه دی اودا غلطه ده چی صرف په نیت سره لمونځ کیږی، نو چی کمو خلګو لمونځ ونه کی

(١). عن ثوبانؓ قال کان رسول الله ﷺ اذا انصرف من صلوته استغفر ثلاثا وقال اللهم انت السلام ومنك السلام تبارك یا ذا الجلال والاکرام. رواه مسلم (مشکوٰة ص ٨٨). ظفیر

(٢). ویجب تکبیر التشریق ... علی امام مقیم بمصر وعلی مقتد مسافر او قروی او امرأة بالتبعیة ... والا بوجوبه فورکل فرض مطلقا ولو منفردا اومسافرا او امرأة لانه تبع للمکتوبة ... وعلیه الاعتماد والعمل والفتویٰ فی عامة الامصار وکافة الاعصار (درمختار) قوله: لانه تبع للمکتوبة فیجب علی کل من تجب علیه الصلوة المکتوبة قوله وعلیه الاعتماد ... هذا بناءً علی انه اذا اختلف الامام وصاحباه فالعبرة لقوة الدلیل وهو الاصح (ردالمحتار، باب العیدین مطلب فی تکبیر التشریق ج١ ص ٧٨٤، ط. س. ج٢ ص١٧٧ – ١٨٠). ظفیر

دهغوی لمونځ صحیح نه سو، لیکن اوس دهغه قضاء هم نسته، دامام صاحب څخه دا غلطی وسوه، چی هغوی ته یی داسی مسئله [۱] وښووله. فقط

<u>په اخترونو کی دامامت دوجه څخه دجماعت تفریق درست نه دی</u>: سوال: (۲۲۷۷) داخترونو دامام جوړیدلو دپاره دجماعت ماتول اودوهم جماعت کول درست دی اوکه نه؟ او ددواړو لمونځ به صحیح وی اوکه نه؟

جواب: دجماعت تفریق کول ښه نه دی که څه هم په دی وجهی سره چی داخترونو د جماعت تعدد جائز دی یعنی په یو ښار کی په ډیرو ځایونو کی داخترونو لمونځ کیدی سی. ددواړو (جماعتونو) لمونځ صحیح سو [۲]. فقط

<u>داخترونو وجوب او دقضاء نه کیدلو وجه</u>: سوال: (۲۲۷۸) داخترونو لمونځ واجب دی اوکه نفل؟ اوددی قضاء ولی نسته حالانکی دوترو قضاء سته؟

جواب: داخترونو لمونځ واجب [۳] دی، اوکه چیری دیوه سړی څخه داخترونو جماعت فوت سی نوبیا دهغه قضاء نسته، ځکه چی په دی کی جماعت شرط دی اوپه وترو کی جماعت شرط نه دی اوپه دی کی دوخت تحدید هم نسته. [۴] فقط

<u>داخترونو دلمانځه څخه مخکی یا وروسته نوافل نسته</u>: سوال: (۲۲۷۹) داخترونو دلمانځه څخه مخکی یا وروسته نوافل کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: نه دی پکار [۵]. فقط

<u>دکوچنی اختر لمونځ دعذر په وجه په بله ورځ درست دی</u>: سوال: (۲۲۸۰) دکوچنی اختر میاشت دوریځی په وجه په نظر رانغله دخالی په ورځ سهار اووه بجی تحقیق وسو چی نن اختر دی. روژی ماتی سوی، لیکن په کلیو کی دخبر نه رسیدلو په وجه سره داختر لمونځ دیکشنبی په ورځ وسو، لهذا دا لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

جواب: دکوچنی اخترلمونځ دعذرپه وجهی سره په راتلونکی ورځ کولی سی، نودیکشنبی

---

(۱). ولا یصلیها وحده ان فاتت مع الامام الخ ولوامکنه الذهاب الی امام اٰخر فعل لانها تؤدی بمصر واحد بمواضع کثیرة اتفاقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص۷۸۳ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۲). ظفیر

(۲). لانها تؤدی بمصر واحد بمواضع کثیرة اتفاقا (ایضا، ط. س. ج۲ ص۱۷۲). ظفیر

(۳). تجب صلاتهما فی الاصح علی من تجب الجمعة علیه بشرائطها المتقدمة سوی الخطبة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۴، ط. س. ج۲ ص۱۲۲). ظفیر

(۴). ولا یصلیها وحده ان فاتت مع الامام الخ ولوامکنه الذهاب الی امام اخر فعل لانها تؤدی بمصر واحد بمواضع کثیرة اتفاقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۸۳ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۲). ظفیر

(۵). ولا یتنفل قبلها مطلقا الخ وکذا لا یتنفل بعدها فی مصلاها فانه مکروه عند العامة وان تنفل بعدها فی البیت جاز (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص۷۷۷ – ۷۷۸ ط. س. ج۲ ص ۱۲۹ - ۱۷۰). ظفیر

په ورځ هم داختر لمونځ وسو. كما فى الدر المختار وتؤخر بعذر كمطر الى الزوال من الغد الخ وفى الشامى قوله كمطر ادخل فيه ما اذا لم يخرج الامام وما اذا غم الهلال فشهدوا به بعد الزوال او قبله بحيث لا يمكن جمع الناس الخ شامى (۱). فقط

داخترونو دلمانځه په نيت کی يی لفظ دسنت ووايه نولمونځ وسو اوکه نه؟ سوال: (۲۲۸۱) داختر په لمانځه کی يی داسی نيت وکی، نيت کوم دوه رکعاته سنت دکوچنی اختر سره دشپږو تکبيرونو. په دی صورة کی لمونځ صحيح سو اوکه نه؟

جواب: په دغه رکم نيت کولو سره لمونځ صحيح دی، ځکه چی بعضو فقهاؤ داختر لمانځه ته سنت فرمايلی دی ليکن صحيح داده چی واجب (۲) دی، نوددی دپاره احوط دا ده چی دواجب لفظ دي ووايی، خوکه په نيت کی يی دسنت لفظ ووايه نوهم لمونځ صحيح دی. فقط

داخترونو دلمانځه دپاره هم دفرش پاکوالی ضروری دی: سوال: (۲۲۸۲) کم ځای چی غير محفوظ دی اوپاك صاف نه دی هلته داختر دلمانځه کول درست دی اوکه نه؟

جواب: دځای پاکوالی دلمانځه دصحت دپاره شرط دی، که چيری په ناپاکه ځای کی داخترونو وغيره لمونځ وسو نوهغه صحيح نه سو. (۳) فقط

داختر دلمانځه څخه وروسته څلور رکعاته نفل په جماعت سره دکولو رواج غلط دی: سوال: (۲۲۸۳) زموږ په ځای کی داخترونو دلمانځه څخه وروسته څلور رکعاته نفل په جماعت سره کوی، ايا دانفل کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: داخترونو دلمانځه څخه وروسته په جماعت سره نفل کول درست نه دی. (۴) فقط

په کوچنی کلی کی داختر لمونځ درست نه دی: سوال: (۲۲۸۴) په يوځای کی تقريباً د څلويښتو پنځوسو کورونو ابادی ده، يو زوږ پوخ جومات دی چی په هغه کی هميشه

---

(۱). ردالمحتار باب العيدين ج۱ ص۷۸۳ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۲. ظفير

(۲). وتجب صلاتهما فى الاصح (درمختار) قوله: فى الاصح، مقابله القول بانها سنة وصححه النسفى فى المنافع لكن الاول قول الاكثرين كمافى المجتبى ونص على تصحيحه فى الخانية والبدائع والهداية والمحيط والمختار الكافى للنسفى وفى الخلاصة هو المختار لانه ﷺ واظب عليها وسماها فى الجامع الصغير سنة لان وجوبها ثبت بالسنة ، حليه الخ (ردالمحتار باب العيدين ج۱ ص۷۷۴، ط. س. ج۲ ص ۱۲۲). ظفير

(۳). والشرط الخ شرعا ما يتوقف عليه الشيء ولا يدخل فيه هى ستة طهارة بدنه الخ من حدث بنوعيه وخبث مانع الخ وثوبه الخ ومكانه اى موضع قدميه او احديهما الخ وموضع سجوده اتفاقا فى الاصح الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص۳۷۳ – ۳۷۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۰۲). ظفير

(۴). ولا يتنفل قبلها مطلقا الخ وكذا لا يتنفل بعدها فى مصلاها فانه مكروه عند العامة (ايضا باب العيدين ج۱ ص۷۷۷ ، ط. س. ج۲ ص ۱۶۹ – ۱۷۰). ظفير

پنځه وخته لمونځ او داخترونو لمونځ کیږی، اوس ددی ځای دخلګو خواهش دی چی داخترونو دپاره یوه عیدګاه جوړه کړی نودا جائز دی اوکه نه؟

جواب: داجائز نه دی ځکه چی په داسی ځای کی دجُمعې او داخترونو لمونځ نه صحیح کیږی. ([1]) درمختار وشامی. ([2])

دعیدګاه دبهیدلو خطره ده نوایا دهغه چت ونړول سی؟ سوال: (۲۲۸۵) یوه عیدګاه ددریاب سره متصله واقع ده که چیری په دی کال سیلاب راغی نودعیدګاه شهید کیدلو بیره ده، ځکه چی دسیلاب په وجهی سره همیشه مځکه پرې کیږی اوچاك کیږی په داسی صورة کی چی دعیدګاه خښتی وایستل سی اوپه هغه خښتو سره په بل ځای کی عیدګاه جوړه سی نوځنګه ده؟

جواب: کله چی دعیدګاه معدوم کیدلو یقین دی نو دمسلمانانو دپاره ګنجائش سته چی دهغه ټول سامان منتقل کړی اوبل ځای عیدګاه جوړه کړی، لیکن دامځکنی ځای هم که چیری محفوظ پاته سو هم هغه رکم به وقف اوسی، په هغه کی هیڅ قسم تصرف جائز نه دی. ([3]) فقط

په قبرستان کی چی کمه عیدګاه جوړه وی په هغه کی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۲۲۸۶) کمه عیدګاه چی په قبرستان کی جوړه سوی وی په هغه کی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: جائز ([4]) دی فقط

ضحٰی صحیح دی اوکه اضحٰی؟ سوال: (۲۲۸۷) په ضحٰی اوپه اضحٰی کی کم یوصحیح دی، که چیری دضحٰی په ویلو سره لمونځ وسی نولمونځ به وسی اوکه نه؟

جواب: دلوی اختردپاره په عربی کی لفظ دیوم الاضحی ویل سوی دی. الاضحٰی دقربانی

([1]). ولایصلی الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره ذلك ولو علی سبیل التداعی (ایضا باب الوتر والنوافل ج۱ ص ۲۲۳ ، ط. س. ج۲ ص ۴۸). ظفیر

([2]). وتقع فرض فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ وفیما ذکرنا اشارة الی انه لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر الخ ولو صلوا فی القری لزمهم اداء الظهر (ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص ۷۴۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۳۸) . ظفیر

([3]). کالمسجد اذا خرب واستغنی عنه اهل القریة فرفع ذلك الی القاضی فباع الخشب وصرف الثمن الی مسجد اخر جاز الخ فمنهم من افتی بنقل بناء المسجد ومنهم من افتی بنقله ونقل ماله الی مسجد اخر الخ (ردالمحتار، کتاب الوقف احکام المسجد، مطلب فی نقل انقاض المسجد ونحوه ج۳ ص۵۱۴، ط. س. ج۲ ص ۳۵۹). ظفیر

([4]). وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة ومزبلة ومجزرة ومقبرة الخ (درمختار) ولاباس بالصلاة فیها (ای المقبرة) اذاکان فیها موضع اعد للصلاة ولیس فیه قبر ولا نجاسة کما فی الخانیة (ردالمحتار ج۱ ص ۳۵۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸). ظفیر

په معنٰی کی دی (١)، لوی اختر ته الضحٰی یا ضحٰی ویل غلط دی خو لمونځ کیږی.

یوسړي دوه ځایه داختر امامت وکی نوپه کم ځای کی جائزسو: **سوال**: (٢٢٨٨\١) زید په دوو ځایونو کی داختر لمونځ ورکی نوپه دغه دوو کی کم یو وسو؟

په اجرت باندي داخترونو او دجُمعي لمونځ ورکول جائز دي اوکه نه؟ **سوال**: (٢٢٨٩\٢) داخترونو یا دجُمعي لمونځ په اجرت اخیستلو سره ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: \١. زید داخترونو یا دجُمعي لمونځ دوه واره نه سی ورکولی که داسی یی وکړل نو دوروستنیو مقتدیانو لمونځ ونه سو ځکه چی دامام دوهم لمونځ نفل سو اوپه نفل کوونکی پسی دفرض کوونکی یا دواجب لمونځ کوونکی لمونځ صحیح نه سو (٢).

٢\. په امامت باندی اجرت اخیستل فقهاؤ جائز لیکلی دی (٣). فقط

په اخترونو کی دعاء په کم وخت کی جائزه ده، دلمونځ څخه وروسته اوکه دخطبی څخه وروسته؟ **سوال**: (٢٢٩٠) په اخترونوکی دعاء کم وخت وغواړی ایا دلمانځه څخه وروسته اوکه دخطبی څخه وروسته؟

جواب: داخترونو دلمانځه څخه وروسته دنورو لمونځونو په شان دعاء غوښتل مستحب دی، دخطبی څخه وروسته ددعاء غوښتلو استحباب دیو روایت څخه ثابت نه دی او د اخترونو دلمانځه څخه وروسته ددعاء کولو استحباب دهم هغو احادیثو مبارکه ؤ او روایتونو څخه معلومیږی په کموکی چی عموماً دلمونځونوڅخه وروسته ددعاء غوښتل وارد سوی دی، اودعاء بعد الصلوة مقبوله وی، په حصن حصین کی هغه احادیث مبارك مذکور دی اوزموږ داکابرینو همدا معمول راروان دی. دبنده په نزد کم علماء کرام چی داخترونو دلمانځه څخه وروسته دعاء غوښتلو ته بدعت یاغیر ثابت فرمایی هغه صحیح نه ده، ځکه چی عمومًا دلمونځونو څخه وروسته ددعاء استحباب ثابت (٤) دی، بیا د اخترونو دلمانځه داستثناء کولو هیڅ وجه نسته، اوهغه احادیث معروف اومشهور په مشکوٰة شریف اوپه حصن حصین کی مذکور دی، دهغه دنقل کولو ضرورت نسته. فقط

داخترونو لمونځ په جومات کی جائز دي اوکه نه؟ **سوال**: (٢٢٩١) کم خلگ چی دجُمعي په جومات کی داخترونو لمونځ کوی دهغوی لمونځ کیږی؟

---

(١). وگوری الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج٥ ص ٢٧١ ، ط. س. ج٢ ص ٣١١ - ٣١٢ . ظفیر

(٢). ولا مفترض بمتنفل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج١ ص٥٤٢، ط.س. ج١ ص٥٧٩). ظ

(٣). ویفتی الیوم بصحتها لتعلم القرآن والفقه والامامة والاذان (الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الاجارة جلد پنځم ، ط. س. ج ٦ ص ٥٥). ظفیر

(٤). ویستحب ان یستغفر ثلاثا الخ ویدعو ویختم بسبحان ربك (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلاة ج١ ص ٤٩٥ ، ط. س. ج١ ص ٥٣٠). ظفیر

جواب: لمونځ کيږی ليکن په عيدګاه کی يی کول سنت دی، په عيدګاه کی بی عذره داخترونو لمونځ نه کول خلاف سنت دی (۱).

داويل غلط دی چی داخترونو خطبه پرمنبر باندی ويل درست نه دی: **سوال**: (۲۲۹۲) غير مقلدين وايی چی داخترونو خطبه پرمنبر باندی په دريدلو سره ويل درست نه دی، بلکی داخترونو خطبه پرمځکه باندی په دريدلو سره ويل په کاردی؟

جواب: داحنافو مذهب دادی چی داخترونو لمونځ په عيدګاه اوصحراء کی کول ښه او مستحب دی، اوهلته يی په منبر وړلو کی اختلاف نقل کړی دی. علامه شامی فرمايلی دی چی عيدګاه ته دمنبر وړل مکروه دی. البته که چيری هلته په عيدګاه کی منبر جوړ سی، اوتعمير سی نوځه حرج پکښی نسته، دغير مقلدينو دا ويل غلط دی چی داخترونو خطبه پرمنبر باندی په دريدلو سره ويل ناجائز دی. فقط (۲)

داختر په ورځ نوافل: **سوال**: (۲۲۹۳) داخترونو په ورځ نفلو دکولو څه حکم دی؟

جواب: داخترونو دلمانځه څخه مخکی نفل مطلقا مکروه دی، اوداختر دلمانځه څخه وروسته د(نفلی) لمونځ کولو داحکم دی چی په عيدګاه کی دي نه کوی، اوکه چيری کور ته راغی نو وروسته يی وکړه نودرست دی، په درمختار کی دی، ولا يتنفل قبلها مطلقا الخ وکذا لايتنفل بعدها فی مصلاها فانه مکروه عند العامة وان يتنفل بعدها فی البيت جاز الخ (۳)، فقط

داختر دلمونځ کولو څخه وروسته دنفلو په نيت سره دوباره داختر لمونځ کول څنګه دی؟

سوال: (۲۲۹۴) زيدپه يوځای کی دلوی اختر دلمانځه دامامتی کولوڅخه وروسته دځپل يولوی بزرګ ځای ته تللی وو. هلته په هغه ورځ اختر نه وو سوی، په بله ورځ لمونځ وسو نوزيد داختر په لمانځه کی دنفلوپه نيت سره مقتدی سو، نوزيدبه ګنهګار وی اوکه نه؟

جواب: دنفلو په نيت سره په جماعت کی په شريکيدلو سره په زيد باندی هيڅ ګناه ونه سوه، ځکه شرعًا په بعضو ځايونوکی دداسی کولوحکم دی څنګه چی دفقهی په کتابونو

(۱). والخروج اليها ای الجبانة لصلاة العيد سنة وان وسعهم المسجد الجامع هو الصحيح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العيدين ج۱ ص ۷۷۲ ، ط. س. ج۲ ص ۱۶۹). ظفير

(۲). ولاباس باخراج منبر اليها لكن فی الخلاصة لابـاس ببنائه دون اخراجه (درمختـار) ومثله فی الخانية فانهما قالا لا يخرج المنبر الی الجبانة يوم العيد واختلف المشائخ فی بنائه فی الجبانة قيل يكره وقيل لا فدل كلامهما علی انه لا خلاف فی كراهة اخراجه اليها، وانما الخلاف فی بنائه فيها ويمكن حمل الكراهة علی التنزيهية وهی مرجع خلاف الاولی المفاد من كلمة لابـأس غالبـاً فلا مخالفة فـافهم وفـی الخلاصة عـن خواهرزاده هذا ای بنـاءه حسن فی زماننا (ردالمحتار باب العيدين ج۱ ص ۷۷۷ ، ط. س. ج۲ ص ۱۶۹ – ۱۷۰). ظفير

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العيدين ج۱ ص ۷۷۷ – ۷۷۸. ظفير

کی دی، چی چا دماپښین اودماخستن لمونځ کړی وی، اودجماعت داقامت په وخت کی هغه په جومات کی وی نوهغه دی جماعت دپرېښولو دوجه څخه ددغه ځای څخه نه وزی اودنفلو په نیت سره دي په جماعت کی شامل سی (۱) . فقط

داخترونو لمونځ په مختلفو جوماتونو کی: **سوال**: (۲۲۹۵) دجُمعې او داخترونو لمونځ په مختلفو جوماتونو کی اداء کیدی سی اوکه نه؟

جواب: کولی سی ځکه چی مسئله داده چی په کمه علاقه کی په یوځای کی چی جُمعه او اخترونه جائزوی هلته په ډیرو ځایونو کی هم جائزدی (۲)، البته ښه دادی چی په یوځای کی دجُمعې او داخترونو لمونځ وکړی. اوداخترونو لمونځ دباندی په صحراء کی کول مسنون دی (۳). فقط

په زوائدو تکبیراتو کی دی لاسونه نه تړي: **سوال**: (۲۲۹۶) داخترونو په زوائدو تکبیراتو کی لاسونه تړل په کاردی اوکه نه؟

جواب: داخترونو په زوائدو تکبیراتو کی لاسونه تړل نه دی په کار (۴) فقط

داختر دلمانځه څخه وروسته نفل کول بدعت دی: **سوال**: (۲۲۹۷) داختر دلمانځه دفراغت څخه وروسته په جماعت سره یا یوازی نوافل کول شرعًا څنګه دی؟

جواب: داختر دلمانځه داداء کولو څخه وروسته نوافل په جماعت سره یا یوازی په عیدګاه کی کول بدعت اوناجائز اومکروه تحریمی دی. (۵) فقط

درشوت په پیسو سره دعیدګاه جوړول څنګه دی؟ **سوال**: (۲۲۹۸) دزما دسخر سره درشوت او دزمینداری ګټه مخلوطه ده، هغه یوه عیدګاه تیاره کړیده نوپه دغه عیدګاه کی لمونځ

---

(۱). والا لمن صلی الظهر والعشاء وحده مرة فلایکره خروجه الا عند الشروع فی الاقامة فیکره لمخالفته الجماعة بلا عذر بل یقتدی متنفلا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ادراك الفریضة ج۱ ص ۲۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۵۵). ظفیر

(۲). په درمختار کی دی: وتؤدی بمصر واحد بمواضع کثیرة مطلقا (برحاشیه ردالمحتار ج۱ ص۸۴۳ ، ط. س. ج۲ ص ۱۷۲). ظفیر

(۳). په درمختارکی دی: والخروج الیها ای الجبانه سنة وان وسعهم المسجدالجامع هو الصحیح (ج۱ ص ۷۷۲ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۹) دجبانی په توضیح کولوسره لیکی: ماشیا الی الجبانة وهی المصلی العام ای فی الصحراء (ردالمحتار ج۱ ص۷۷۲). ظفیر

(۴). ثم یکبر ثلث تکبیرات یفصل بین کل تکبیرتین بسکتة قدر ثلث تسبیحات (الی قوله) ویرفع یدیه عندکل تکبیرة منهن ویرسلهما فی اثنائهن فاذا قام الی الرکعة الثانیة یبتدی بالقراءة ثم یکبر بعدها ثلث تکبیرات علی هیئة تکبیرة فی الاولی (غنیة المستملی ص ۵۲۵). ظفیر

(۵). ولا یتنفل قبلها مطلقا (الی قوله) وکذا لایتنفل بعدها فی مصلها فانه مکروه عند العامة (الدر المختار ج۱ ص۱۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۹ - ۱۷۰ ، باب العید). ظفیر

کول، اودهغه ډوډۍ خوړل درست دی دی اوکه نه؟
جواب: په دغه عیدګاه کی لمونځ صحیح دی، او دهغه ډوډی خوړل ښه نه دی ([1]).

په جامع جومات کی داخترونو لمونځ: **سوال**: (۲۶۹۹) داخترونو لمونځ په جامع جومات کی اداء کول درست دی اوکه نه؟ په عیدګاه کی امام بدعتی دی؟
جواب: داخترونو لمونځ په جامع جومات کی هم اداء کول درست دی لیکن مسنون او افضل په صحراء کی اداء کول دی، که چیری په عیدګاه کی امام بدعتی وی نوبل ځای په صحراء کی داسنت اداء کړی ([2]). فقط

که چیری داخترونو په لمانځه کی زیات مقتدیان شافعی المذهب وی نو امام به لمونځ څه رکم ورکوی؟ **سوال**: (۲۷۰۰) په اخترونو کی امام حنفی دی اودنیمو څخه زیات مقتدیان شافعیان دی، اودنیمو څخه کم حنفیان دی نوامام لره دکم مذهب موافق لمونځ ورکول په کاردی؟
جواب: داخترونو په لمانځه کی دي حنفی امام دخپل مذهب موافق تکبیرات زوائد ووایی یعنی دری تکبیرونه په هررکعات کی درکوع او دتکبیر افتتاح دتکبیرونو څخه بغیر، مقتدیان چی کم شافعی المذهب دی هغوی دي دخپل مذهب موافق تکبیرونه پوره کړی، که چیری دهغوی په نزد داجائز وی چی په حنفی امام پسی دي تکبیرونه پوره سی. غرض داچی حنفی امام ته دهغوی دمذهب اتباع ضروری نه ده، لیکن که چیری امام دهغوی درعایت په وجه دهغوی دمذهب موافق تکبیرونه ووایی، نوپه دی کی هم څه حرج نسته: ویصلی الامام بهم رکعتین مثنیا قبل الزوائد وهی ثلث تکبیرات فی کل رکعة ولو زاد تابعه الی ستة عشر لانه ماثور، (درمختار) ([3]) باب العیدین، اوپه کتاب الطهارت کی دی، لکن یندب للخروج من الخلاف لاسیما للامام لکن بشرط عدم لزوم ارتکاب مکروه مذهبه ([4]). فقط

عیدګاه چی دابادی څخه بهر په هر طرف وی څه بدیت پکښی نسته: **سوال**: (۲۷۰۱) داخترونو لمونځ په کم طرف کی کول اولی دی؟ اودعیدګاه په جوړولوسره لمونځ قائمول څنګه دی؟ څه حرج خوپه کښی نسته.

([1]). اکل الربوا وکاسب الحرام اهدی الیه اواضافه وغالب ماله حرام یقبل ولا یاکل مالم یخبر ان ذلك المال اصله حلال ورثه او استقرضه (عالمگیری مصری ج ۵ ص ۳۵۵ ، ط. م. ج۵ ص ۳۴۳). ظفیر
([2]). والخروج الیها ای الجبانة للصلاة سنة وان وسعهم المسجد الجامع هوالصحیح (الدر المختار ج۱ ص ۱۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۱۶۹ ، باب العیدین). ظفیر
([3]). الدر المختار باب العیدین ج۱ ص۱۱۵ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۲. ظفیر
([4]). ایضاً . ظفیر

جواب: په شريعت مطهره کی دعيدګاه دپاره تخصيص دکم جانب نسته، بلکی مسنون صرف دادی چی دښار څخه دباندی په تللو سره دي داخترونو لمونځ اداء سی، چی په دی ځای کی به داخترونو لمونځ اداء کوو. (۱) فقط

داخترونو دپاره اذان وغيره نسته: سوال: (۲۷۰۲) په اخترونو کی داذان اودتکبير ويلو څه حکم دی؟

جواب: عن ابن جريج قال اخبرنی عطاء عن ابن عباس وجابر بن عبد الله قالا لم يكن يؤذن يوم الفطر ولا يوم الاضحى ثم سألته يعنی عطاءً بعد حين عن ذلك فاخبرنی قال اخبرنی جابر بن عبد الله أن لا أذان للصلاة يوم الفطر حين يخرج الإمام ولا بعد ما يخرج ولا إقامة ولا نداء ولا شيء لا نداء يومئذ ولا إقامة. رواه مسلم (۲) وفی الدرالمختار لايسن لغيرها كعيد (۳) الخ، ددی حديث شريف اودفقهی درِوايت څخه معلومه سوه چی په اخترونو کی اذان او تکبير او دالصلوة وغيره نداء کول هيڅ نسته. مسنونه طريقه هم داده. (۴) فقط

تكبيرات تشريق: سوال: (۲۷۹۳) ما قولكم رحمكم الله في تكبيرات امام التشريق عقب المكتوبات وهو انه إذا سلموا منها يكبر ألامام منهم اولاً مرةً وحينئذٍ يستمع من خلفه ساكتين وإذا فرغ منه فيشرعون في التكبير بالجهر بالاصوات المتحدة والاوزان الواحدة مرةً ثم الامام ثم من خلفه ثانيا وهكذا ثلاث مرات متعاقبة وأهل العلم في هذه البلاد في هذه المسألة فرقتان فرقة تقول أن هذه العادة هي المشروعية الخ وفرقة تقول أن هذه العادة لم تكن في زمن النبي صلى الله عليه وسلم فالكيفية المشروعة في هذه التكبيرات أن يكبر كل واحد من الامام والماموم لنفسه على وجه الاستقلال من غير اجتماع في الاصوات الخ فالحق في هذه المسألة في اى الفريقين؟

جواب: أقول وبالله التوفيق أن قول الفرقة الثانية هو الحق الثابت بالسنة والتورث وان قال بعضهم بالاتيان به ثلث مرات قال في الدر المختار نقلا عن الحموى أن الإتيان به مرتين خلاف السنة إلخ فالاقتصار على السنة أولى واحب وعن الإحداث في الدين ابعد الخ (۵). **فقط**

---

(۱). عن ابی سعيد الخدری‌ؓ قال: كان النبی ﷺ يخرج يوم الفطر والاضحى الى المصلى (مشكوة باب العيدين ص ۱۲۵) يعنی وو حضور ﷺ چی دباندی به تلی په کوچنی اختر اوپه غټ اختر کی دعيدګاه په طرف چی دغه مشهوره ځای دی په مدينه منوره کی دښار څخه دباندی چی هلته به يې اختر تيروی اواوس يې پرهغه چاپيره ديوالونه جوړ کړی دی. (اشعة اللمعات ج۱ ص ۲۳۸). ظفير

(۲). مشكوة باب العيدين ص ۱۲۷. ظفير

(۳). الدر المختار ج۱ ص ۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۵ ، باب الاذان. ظفير

(۴). دمذکوره حديث دترجمی په ضمن کی يې ليکلی دی چی (نه اقامت وو اونه اواز ورکول لکه چی وايې الصلوة الصلوة اونور ددغه په مثل (اشعة اللمعات ج۱ ص۲۴۲). ظفير　　[باقی]

دخطبی څخه وروسته دعاء ثابته نه ده: **سوال:** (۲۷۰۴) داخترونو دلمونځونوڅخه وروسته دعاء غوښتل څنګه دی؟ اودخطبی څخه وروسته ددعا غوښتل جائزدی اوکه نه؟

جواب: داخترونو دلمونځونو څخه وروسته دعاء غوښتل خوپه شان دټولو لمونځونو مسنون اومستحب دی، لیکن دخطبی څخه وروسته دعاء غوښتل ثابت اوجائزنه دی (۱).

دښځو عیدګاه ته تلل: **سوال:** (۲۷۰۵) دښځو دپاره دسړیو په شان عیدګاه ته دلمانځه دپاره تلل درست دی اوکه نه؟

جواب: په دی زمانه کی بلکی ډیر مخکی دښځو دپاره په جماعت کی دشریکیدلو دپاره جومات اوعیدګاه ته تلل ممنوع اومکروه دی دصحابه کرامو ﷺ په زمانه کی داممنوع سوی دی، کما ورد فی الاحادیث، اوپه درمختار کی دی، ویکره حضورهن الجماعة ولو لجمعة وعید ووعظ (۲) مطلقا ولو عجوزا لیلا علی المذهب المفتی به لفساد الزمان واستثنٰی الکمال بحثا العجائز المتفانیة الخ. فقط

داخترونو لمونځ واجب دی اوکه نفل؟ **سوال:** (۲۷۰۶) یوامام صاحب داختر لمونځ ته دنفل لمونځ وایی اوخلګو ته یی داختر دلمانځه څخه مخکی اعلان وکی چی دنفلی لمونځ نیت وکی، او دواجب نیت مه کوی، په همدی کال یی دامسئله ایجاد کړیده، نوصحیح رأیه څه ده؟

جواب: داختر دلمانځه نیت کول دواجب لمونځ کول په کاردی، او دنفلو نه دی په کار، ځکه چی داختر لمونځ واجب دی: قال فی الدر المختار تجب صلوتهما فی الاصح، قال الشامی وقد ذکرنا مراراً انها بمنزلة الواجب ج۱ ص ۷۷۴ الخ، نوددکرسوی امام صاحب داجهالت اوپرغلطی ټینګیدل دی چی هغه خلګوته حکم کوی چی دنفل لمونځ نیت وکی دالله ﷻ دحدودو په بدلیدلو پسی کیدل سخت جهالت دی، معلومه نه ده چی په دی کی دهغه څه فائده ده، ددی څخه ځان وساتی او دواجب لمونځ نیت کوی. فقط. کتبه رشید احمد، الجواب صحیح، عزیز الرحمٰن عفٰی عنه

عیدګاه په کم ځای کی کیدل په کاردی؟ **سوال:** (۲۷۰۷) عیدګاه دښار چپه طرف ته کیدل ښه دی اوکه نه بل یوطرف ته؟

جواب: دعیدګاه دپاره د ښار هیڅ یو جانب مقرر نه دی ، کم طرف ته چی اسانتیا وی او

---

(۵). ردالمحتار باب العیدین فی تکبیر التشریق، ط. س. ج۲ ص ۱۷۸. ظفیر

(۱). عن ام عطیة قالت امرنا ان نخرج الحیض یوم العیدین وذوات الخدور فیشهدن جماعة المسلمین ودعوتهم الخ، الحدیث متفق علیه (مشکوٰة باب العیدین ص ۱۲۵). ظفیر

(۲). الدر المختار باب الامامة ج۱ ص ۸۳ ، ط. س. ج۲ ص ۵۲۲. ظفیر

موقع وی هم هغه طرف ته دي عیدګاه جوړه سی. فقط

په عیدګاه کی په جهر سره دتکبیر ویل څنګه دي؟ سوال: (۲۷۰۸) داختر په ورځ داختر دلمانځه څخه مخکی په عیدګاه کی یاپه جومات کی په زوره زوره (په لوړ اواز سره) دتکبیر ویل درست دی اوکه نه؟ په بعضو ځایونو کی دادستوردی چی ترڅو پوری خلګ داختر دلمانځه دپاره جمع کیږی، نوپه دغه جمعه سوو کسانوکی یوسړی په لوړ اواز سره تکبیر وایی، بیا دهغه داواز په جواب کی ټول راجمع سوی خلګ تکبیر ویل شروع کړی په عیدګاه یاپه جومات کی په لوړ اواز دتکبیر ویلو دا رسم جائز دی اوکه نه؟ که چیری جائزنه وی اومکروه وی نوتکبیر ویونکی لره منع کول په کاردی اوکه نه؟

جواب: په کوچنی اختر کی فقهاؤ کرامو په عیدګاه کی یاپه جومات کی تکبیر ویل منع فرمایی، اوپه لوی اختر کی روایات مختلفه دی بعض فقهاء فرمایی چی صرف په لاره کی دي ووایی اوبعض فرمایی چی په عیدګاه کی هم درست دی، خوداسی نه چی اول یوسړی په چیغی سره تکبیر ووایی اودهغه په جواب کی ټوله مجمع تکبیر ویل شروع کړی په درمختار کی دی: ولا یکبر فی طریقها الخ، په شامی کی دی: قوله فی طریقها لیس التقیید به للاحتراز عن البیت او المصلی وانما هو لبیان المخالفة بین عید الفطر والاضحی فان السنة فی الاضحی التکبیر فی الطریق، کما سیأتی. (۱)، په کبیری شرح منیه کی یی په دی باره کی اثار مختلفه نقل کړی دی (حیث قال) نعم روی الدار قطنی موقوفا عن نافع ان ابن عمر ﷺ کان اذا غدا یوم الفطر ویوم الاضحی یجهر بالتکبیر حتی یاتی المصلی ثم یکبر حتی یاتی الامام وقال البیهقی الصحیح وقفه علی ابن عمر وهو قول صحابی قد عارضه قول صحابی آخر وروی ابن المنذر عن ابن عباس ﷺ انه سمع الناس یکبرون فقال لقائده اکبر الامام قیل لا قال افجن الناس ادرکنا مثل هذا الیوم مع النبی ﷺ فما کان احد یکبر قبل الامام فیبقی مفاد الایة بلا معارض الخ (۲)، اودایت څخه مراد دا ایت دی: واذکر ربك فی نفسك تضرعًا وخیفة ودون الجهر، الایة حیث قال قبیله ولابی حنیفة رحمه الله ان رفع الصوت بالذکر بدعة مخالف للامر فی قوله تعالٰی: واذکر ربك فی نفسك تضرعًا وخیفة ودون الجهر ..... الا ما خص بالاجماع. الخ (۳)

ثم ذکر الجواب عن استدلال الصاحبین، اوپه درمختار کی دی: وقال الجهر به سنة کان کالاضحی وهی روایة عنه ووجهها ظاهر قوله تعالٰی: ولتکملوا العدة ولتکبروا الله علی ما هداکم، ووجه الاولی ان رفع الصوت بالذکر بدعة، فیقتصر علی مورد الشرع الخ (قال الشامی فیقتصر علی مورد الشرع الخ

(۱). ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۷ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۲. ظفیر
(۲). غنیة المستملی ص ۵۲۵. ظفیر
(۳). أیضاً حواله سابق. ظفیر

وهو ما فی البحر عن القنية التكبير جهراً فی غير ايام التشريق لا يسن الا بازاء العدو واللصوص الخ (۱)، غرض داچی کم دا صورة چی په سوال کی دی اختراع (یعنی دځانه جوړه سوی طریقه ده) اوبندول یی په کاردی. فقط والله تعالیٰ اعلم.

دغیر مقلدینو په باره کی پوښتنه: سوال: (۲۷۰۹) دغیر مقلدینو استدلال: ۱. داختر په لمانځه کی په دواړو رکعاتونو کی دولس تکبیرونه ویل درسول الله ﷺ دقول اودفعل څخه ثابت دی. ۲. داختر په لمانځه کی په دواړو رکعاتونو کی تکبیرونه دقرآئت څخه مخکی ویل درسول الله ﷺ دقول اودفعل څخه ثابت دی. ۳. دحضورﷺ قرآئت داخترونو دلمونځ اودجُمعې په لمانځه کی خاص وو اوعام نه وو. ۴. څلورم داچی درسول خدا ﷺ څخه دکوچنی اختر وخت په مقدار دلمر ددوی نیزی ختلو اوپه لوی اختر کی په قدر دیوی نیزی ثابت دی.

داولنی او ددوهمی خبری دلیل: عن عائشة رضي الله عنها ان رسول الله ﷺ كان يكبر فی الفطر والاضحٰی فی الاولٰی سبعاً وفی الثانية خمساً ، وايضا روی هذا الحديث عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضي الله عنه ان النبی ﷺ كان يكبر فی الفطر فی الاولٰی سبعاً وفی الثانية خمساً وعن عبد الله بن عمرو بن العاص قال قال النبی ﷺ التكبير فی الفطر سبع فی الاولٰی، وخمس فی الثانية القراءة بعدها فی كلتيهما وروی هذا الحديث ايضاً عن عمرو بن شعيب ايضا الخ، ددی دری واړو څخه دولس تکبیرونه ویل داخترونو په دواړو رکعاتونو کی دقرآئت څخه مخکی ثابت سول.

ددریمی دعوی دلیل: عن النعمان بن بشير رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ كان يقرء فی العيدين وفی الجمعة بسبح اسم ربك الاعلی وهل اتاك حديث الغاشية.

دڅلورمی دعوی دلیل: عن جندب رضي الله عنه قال: كان النبی ﷺ يصلی بنا يوم الفطر والشمس علی قدر رمحين والاضحٰی علی قدر رمح الخ.

جواب: کذب اودروغ وینا دغیر مقلدینو خاصه ده، بی سوچه ویل کوی چی فلانی کار خلاف سنت دی، گویا داحادیثو په ټولو کتابونو باندی دوی ته مهارت حاصل دی. موږ خلگو ته دغیر مقلدینو په قصو کی دپریوتلو فرصت نسته، او دهغوی داقوالِ کاذبه وو جواب په دی وجه لیکل فضول دی، چی ددی ډلی حال دروافضو په شان دی، چی داعتراضونو جوابونه یی په بار بار سوی دی، لیکن همدغه اعتراضونه دوی بیا دناخبرو په مخکی پیش کوی، نو دمتبع سنت حنفیانو دپاره ضروری دی چی ددی اهل هوا او دضال اومُضِلّ (خپله هم بی لاری او دنورو هم بی لاری کونکی) ډلی څخه ځان وساتی او

(۱). وگوره ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۷۰. ظفیر

ددوی شبهات اوبی کاره اعتراضات دي نه اوری اوبالاجمال دی داخبره په ذهن کی ولری چی دحنفیانو جماعت کثیره په کموکی چی لوی لوی فقهاء اوعلماء اواولیاء الله تیر سوی دی. داټول پرګمراهی باندی اوخلاف سنت اوخلاف حق نه سی کیدی نوکه همدا باطله فرقه مصداق د: مَنْ شذ شذ فی النار وی، نو وی به، لیکن تعجب دی پرهغه حنفیانو باندی چی سره دعلمه دداسی خلګو سره ربط اوضبط ساتی او دهغوی څخه دمسائلو په تحقیق پسی لګیدلی وی. پیژندل په کاردی چی دحضرت امام ابوحنیفه ﷺ مذهب دقرآن پاك اودحدیث شریف څخه را اخیستل سوی دی په هیڅ یوه مسئله کی یی خلاف نه دی، لیکن په هرسړی کی ددی دپوهیدلو قابلیت او دمعلومولو (لیاقت) نسته. لوی لوی متبحر عالمان په دی باره کی اګاه کیږی اوباندی خبریږی نه چی دعقل دښمنان نواحنافو لره په دغه خبرو پسی غوږ ګرول نه دی په کار. دهغوی کار تقلید کول دی کمه مسئله چی ورته معلومه نه وی دهغه تحقیق دي دیو متدیّن عالم څخه وکړی بالاختصار ددغه ټولو سوالونو جوابونه تحریر کیږی:

۱، ۲: داخترونو په لمانځه کی شپږ تکبیرونه دسنت نبوی ﷺ موافق دی:

قال صاحب فتح القدير وفى ابوداود ما يعارضهما وهو ان سعيد ابن العاص رضى الله تعالى عنه سأل ابا موسى الاشعرىّ رضى الله تعالى عنه وحذيفة بن اليمان رضى الله تعالى عنه كيف كان رسول الله ﷺ يكبر فى الاضحى والفطر قال ابو موسٰى رضى الله تعالى عنه كان يكبر اربعاً تكبيره على الجنائز فقال حذيفة رضى الله تعالى عنه صدق فقال ابو موسٰى رضى الله تعالى عنه كذلك كنت اكبر فى البصرة حيث كنت عليهم الخ سكت عنه ابوداؤد الخ قال الترمذى: قد روى عن ابن مسعود رضى الله تعالى عنه انه قال فى التكبر فى التكبير فى العيد تسع تكبيرات فى الاولى خمساً قبل القراءة وفى الثانية يبدأ بالقرائة ثم يكبر اربعاً مع تكبيرة الركوع وقد روى عن غير واحد من الصحابة نحو هذا وهذا اثر صحيح قاله بحضرة جماعة من الصحابة رضى الله تعالى عنهم ومثل هذا يحمل على الرفع لانه مثل نقل اعداد الركعات الخ فتح القدير ج ۱ ص۴۴۰.

اوپه فتح القدیر سره دمجیب استدلال کول دهغه پرکم فهمی باندی دلالت کوی ځکه چی دهغه دغه جمله دده پرمدعا باندی منطبق نه ده، اوپه دی سره درسول الله ﷺ دقول نفی نه کیږی.

وفى ابوداود: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ﷺ سَأَلَ أَبَا وَاقِدٍ اللَّيْثِيَّ مَاذَا كَانَ يَقْرَأُ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْأَضْحٰى وَالْفِطْرِ قَالَ كَانَ يَقْرَأُ فِيهِمَا بِ قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ وَاقْتَرَبَتْ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ. (ابوداود شريف) ، ددی حدیث شریف څخه معلومه سوه چی په اخترونو کی به سورة قاف

او سورۃ قمر هم حضور ﷺ وایه په دی وجه داویل غلط دی چی داخترونو په لمانځه کی قرآئت دسبح اسم ربك الاعلی، او دهل اتاك، سره مخصوص وو.
په دی باندی اجماع منعقده سویده چی داختر وخت دلمر یوه نیزه یا دوی نیزی لوړیدلو څخه ترزواله پوری دی، قال صاحب الدرالمختار: ووقتها من ارتفاع قدر رمح الی الزوال. فقط، کتبه رشید احمد عفٰی عنه ، الجواب صحیح بند عزیز الرحمٰن عفٰی عنه

په اخترونو کی دالصلٰوۃ الصلٰوۃ ویل څنګه دی؟ سوال: (۲۷۱۰) په اخترونو کی داذان او دتکبیر یا دالصلوۃ ویلو حکم څه دی؟

جواب: عن ابن جریج قال اخبرنی عطاء عن ابن عباس وجابر بن عبدالله قالا: لم یکن یؤذن یوم الفطر ولا یوم الاضحی، ثم سألته یعنی عطاء بعد حین عن ذالك فاخبرنی: قال اخبرنی جابر بن عبد الله أن لا أذان للصلاة یوم الفطر حین یخرج الإمام ولا بعد ما یخرج ولا إقامة ولا نداء ولا شيء لا نداء یومئذ ولا إقامة. رواه مسلم (۱)، وفی الدر المختار لایسن لغیرها کعید الخ (۲).
ددی حدیث شریف او دفقهی دروایت څخه معلومه سوه چی په اخترونو کی اذان، تکبیر اوالصلٰوۃ، الصلٰوۃ، وغیره اواز کول هیڅ نسته. همدا طریقه مسنونه ده.

الباب السابع عشر فی الإستسقاء

دباران دطلب کولو طریقه

داستسقاء لمونځ په جماعت سره مستحب دی اوکه بغیر دجماعت څخه: سوال: (۲۷۱۱) داستسقاء لمونځ په جماعت سره سنت اومستحب دی اوکه نه دجماعت څخه بغیر؟

جواب: قال فی ردالمحتار باب الاستسقاء ناقلا عن شرح المنیة فالحاصل أن الاحادیث لما اختلفت في الصلاة بالجماعة وعدمها علی وجه لا یصح به إثبات السنیة لم یقل أبو حنیفة بسنیتها، ولا یلزم منها قوله بأنها بدعة کما نقله عنه بعض المتعصبین، بل هو قائل بالجواز اه. قلت: والظاهر أن المراد به الندب والاستحباب لقوله في الهدایة: قلنا إنه فعله علیه الصلاة والسلام مرة وترکه أخری فلم یکن سنة اه: لان السنة ما واظب علیه، والفعل مرة مع الترك أخری یفید الندب. (۳) تامل ص ۵٦۷ شامی جلد اول. وفی الدر المختار وقالا تفعل کالعید الخ وعلیه العمل (۴) ددی عبارت څخه واضحه

---

(۱). مشکوٰۃ ، باب العیدین ص ......
(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص ۳۵۷ ، ط. س. ج۲ ص۳۷۵. ظفیر
(۳). و (۴). ردالمحتار باب الاستسقاء ج۱ ص۷۹۱ ، ط. س. ج۲ ص۱۸۴. ظفیر

سوه چی دامام صاحب رحمه الله په نزد هم داستقاء جماعت مستحب دی، اوصاحبین رحمهما الله دجماعت دسنتیت قائل دی، لهذا داستسقاء لمونځ په جماعت سره کول په کاردی. فقط

داستسقاء دلمانځه وخت: **سوال**: (۲۷۱۲\۱) زید وایی چی کله دمازدیگر دلمانځه وخت سی نو داستسقاء لمونځ کول نه دی په کار؟

داستسقاء دلمانځه څخه وروسته دعاء په اړولو لاسونو سره غوښتل کیږی؟ **سوال**: (۲۷۱۳\۲) داستسقاء دلمانځه څخه وروسته دعاء په اړولو لاسونو سره وغواړی اوکه نه په لوړو لاسونو سره؟

سوال: (۲۷۱۴\۳) ایا داستسقاء لمونځ به دمسلمان حاکم یا دخطیب یا دقاضی څخه ماسوا بل څوك نه کوی؟ او ایا دهغوی شریکیدل ضروری دی؟

جواب: ۱\: داستسقاء دلمانځه ښه وخت دسهاروخت دی دلمر دپورته کیدوڅخه وروسته دي لمونځ اوخطبه، اودعاء وسی په حدیث شریف کی دحضور ﷺ څخه په داسی وخت کی داستسقاء دلمونځ دپاره دتشریف وړل ثابت دی، دحدیث مبارك الفاظ دادی: قالت عائشة رضي الله عنها فخرج رسول الله ﷺ حين بدأ حاجب الشمس ([1]). الحديث

۲\: په عامو دعاء گانو کی مسنونه طریقه داده چی دلاسونو ورغوی دي دمخ طرف ته وی اوپه حدیث شریف کی عام حکم دادی: کما ورد اذا سئلتم الله فاسئلوا ببطون اكفكم ([2])، دهمدی وجه څخه حنفیانو داستسقاء دعاء هم دهمدی عامی قاعدی لاندی لرلی ده لیکن که چیری تفاولاً په دی دعاء کی دلاسونو شا پورته سی او ورغوی یی لاندی سی نوپه دی کی هم هیڅ څه حرج نسته، اوپه حدیث شریف کی دواړه ډوله طریقی راغلی دی، په یوه روایت کی دی، فاشار بظهر كفه الى السماء ([3])، اوپه بل روایت کی دی: قائما يدعو يستسقى رافعا يديه قبل وجهه ([4]) الحديث، نو حنفیانو اصل همدا دوهم حدیث شریف گرځولی دی اواولنی حدیث شریف یی پرتفاول باندی حمل کړی دی، نو لهذا تفاولاداسی جائزدی اواصل سنت هم هغه دی کم چی په هره یوه دعاء کی ثابت ([5]) دی.

۳\: داشرط نسته. بلکی چی څوك امام جوړسی جائزدی لیکن ښه دا دی چی یو صالح متقی عالم دي امام جوړ کړی. فقط

([1]). مشکوٰة باب الاستسقاء فصل ثالث ص ۱۳۲. ظفير

([2]). مشکوٰة باب الاستسقاء عن مسلم ص ۱۳۱. ظفير

([3]). أيضاً ، حواله بالا . ظفير

([4]). مشکوٰة عن ابی داؤد والترمذی والنسائی ، باب الاستسقاء ص ۱۳۱. ظفير

([5]). هو دعاء واستغفار (درمختار) وذالك ان يدعو الامام قائما مستقبل القبلة رافعا يديه والناس قعود مستقبلين (ردالمحتار باب الاستسقاء ص ۷۹۰ ج۱). ظفير

داستسقاء په لمانځه کی جماعت اوخطبه اودڅادر داړولو څه حکم دی؟ سوال: (۲۷۱۵) په استسقاء کی دجماعت شرعًا څه حکم دی؟ او دلمانځه څخه وروسته دخطبی او دقلب رداء (یعنی دڅادر داړولو) څه حکم دی، دحضرت امام اعظم ابوحنیفه رضی الله عنه په دی باره کی څه قول دی، اودصاحبینو" پکښی څه اختلاف دی، اوفتوٰی پرکم قول باندی ده؟

جواب: په استسقاء کی امام صاحب رضی الله عنه جماعت مسنون نه فرمایی خومنع یی هم نه فرمایی. بلکی دندب اوداستحباب قائل دی ځکه چی دامام صاحب څخه کم جواز منقول دی دهغه څخه مراد ندب اواستحباب دی، کما فی الشامی: والظاهر أن المراد به الندب والاستحباب لقوله في الهداية: قلنا إنه فعله عليه الصلاة والسلام مرة وتركه أخرى فلم يكن سنة اه: لان السنة ما واظب عليه، والفعل مرة مع الترك أخرى يفيد الندب. **تامل** (شامی ج۱ ص ۷۹۱، ط. س. ج۲ ص ۱۸۴). نوکله چی داستسقاء دلمونځ جماعت دامام صاحب رحمه الله په نزد مندوب او مستحب دی، اودصاحبینو په نزد سنت دی، نوښه داده چی داستسقاء لمونځ په جماعت سره وسی، **اوخطبه هم ووایی**، قال الشامی وقال محمدرحمه الله يصلی الامام اونائبه ركعتين كما فی الجمعة ثم يخطب ای يسن له ذٰلك والاصح ان ابايوسف مع محمد رحمهما الله ، نهر (شامی ج۱ ص ۷۹۱، ط. س. ج۲ ص ۱۸٤) غرض داچی دخطبی سنتیت یا استحباب سره متلازم دی، دامام صاحب رحمه الله په نزد جماعت مستحب اومندوب دی، کما يظهر عن الاستدلال بفعله صلی الله علیه وسلم مرة وتركه اخرٰى، اوصاحبین کله چی دجماعت دسنتیت قائل دی نوخطبه هم مسنون فرمایی، اوکله چی معلومه سوه چی مفتی به قول دصاحبینو دی، نو مسنون دی چی داستسقاء دجماعت سره دي خطبی اداء سی، دجماعت سره داستسقاء لمونځ کول اوبیا خطبه پریښوول دایوه نوی خبره ده کمه چی په هیڅ یوه مذهب اوقول باندی نه برابریږی (دڅادر اوړل هم ثابت دی) وقد نقل فی الشامی ان فی قلب الرداء الفتوٰی علی قول محمد رحمه الله حيث قال واختار القدوری قول محمد رحمه الله لانه صلی الله علیه وسلم فعل ذالك. نهر، وعليه الفتوٰی كما فی شرح درر البحار. ج۲ ص۱۸٤) وفی الدر المختار فی رسم المفتی واما نحن فعلينا اتباع ما رجحوه وما صححوه كما لو افتوا فی حياتهم. مقدمة درمختار، (علی هامش الشامی ص ۷۲) وفيه ايضاً واما العلامات للافتاء فقوله وعليه الفتوٰی، وبه يفتی، وبه ناخذ، مقدمۀ درمختار ص٦٦-٦٧، وفی الشامی وعن هذا تراهم قد يرجحون قول بعض اصحابه علی قوله كما رجحوا قول زفر رحمه الله وحده فی سبع عشرة مسئلة. فنتبع ما رجحوه لانهم اهل النظر فی الدليل. فقط، والله تعالٰی اعلم

* * * * *

كِتَابُ الْجَنَائِز

اول فصل: دمرګ په وخت کی دمړ کیدونکی سره سلوک

دمرګ په وخت کی سیده څملول څنګه دي؟ سوال: (٢٧١٦) دمحتضر (قريب الموت) په باره کی صاحب دهدايي ليکی: واختار فی بلادنا الاستلقاء لانه ايسر من خروج الروح، آيا دحديث شريف اودصحابه کرامو ﷺ دتعامل څخه داثابت دی، اوپه دی باندی عمل کول څنګه دی؟

جواب: تعامل دسلفو اوتوارث دخلګو همدغه دی کم چی صاحب دهدايي اختيار کړی دی، البته داستلقاء سره سره مخ قبلی ته کول پکار دی، ځکه چی داحاديثو مبارکو تصريحات اوعلل دفقهاؤ دواړه دهمدي مقتضی دی، دشق ايمن (راسته طرف) دقيد ديو حديث اواثر څخه صراحة نه راوزی، نومسلمه طريقه همداده چی قبلی ته دي په مخ سره استلقاء وی په هرکيف اوپه کم صورة کی چی سهولت وی عمل دي وسی، په دواړو کی يوه ته هم خلاف سنت نه سی ويل کيدلی، نقل فی البحر عن المبتغی الاصح انه يوضع كما تيسر لاختلاف المواضع والاماكن ([1]) انتهى، وفيه ايضا وذكر فى المحيط واختير الاستلقاء الخ وفى ([2]) الفتح ثم اذا القى على القفاء يرفع راسه قليلا ليصير وجهه الى القبلة دون السمآء ([3]) وفيه ايضا تحت قوله والاول هوالسنة اما توجيهه فلانه ﷺ لما قدم المدينة سئل عن البراء بن معرور فقالوا توفى واوصى بثلث لك واوصى ان يوجه الى القبلة لما احتضر فقال عليه الصلاة والسلام اصاب الفطرة الخ واما ان السنة كونه على شقه الأيمن فقيل يمكن الاستدلال عليه بحديث النوم ([4]) فتح القدير جلد اول. قلت فهٰذه دالة صريحة على ان التوجيه مع شقه الايمن لا نص فى الحديث عليه. فقط

دغسل او دمرګ په وخت کی دقبلې طرف ته دمخ کولو حديث شريف: سوال: (٢٧١٧) ددی مضمون يوحديث بيان وفرماياست دکم څخه چی داثابت وی چی مړی لره دغسل ورکولو په وخت کی مخ پرقبله باندی اينسوول په کاردی؟

جواب: دقريب الموت بنده دقبلی طرف ته دمخ کولو په باره کی دمنيه په شرحه کی دا حديث شريف منقول دی، دبراء بن معرور دوصيت په قصه کی: واوصى ان يوجهه الى القبلة

([1]). البحر الرائق كتاب الجنائز ج٢ ص١٧٠. ظفير
([2]). ايضا. ظفير
([3]). فتح القدير باب الجنائز ج٢ ص ٦٨. ظفير
([4]). فتح القدير باب الجنائز ج٢ ص ٦٨. ظفير

لما احتضر فقال ﷺ اصاب الفطرة الحديث رواه الحاكم وقال صحيح، والسنة ان يكون على شقه الايمن كما هو السنة فى النوم الخ ص ۵۳۳، كبيرى، **اوخاص مړی ته دغسل ورکولو په وخت کی دقبلی طرف ته دمړی مخ کول په حديث شريف کی په نظر نه دی راغلی، اوفقهاء هم په دی باره کی څه حديث نه نقل کوی په همدی وجه اختلاف هم دی پکښی، په درمختار اوپه شامی کی دی چی اصح دادی چی کم طرف ته څملول سهل اواسان وی نوهغه ډول دي دغسل دپاره څملوی، اوبعضو فقهاؤ فرمايلی دی چی دقبلی طرف ته دی طولاً وڅملوی، اوبعضو فرمايلی دی چی عرضًا دی يی څملوی لکه څنګه چی په قبرکی ايږدی په درمختار کی دی:** ويوضع كما تيسر فى الاصح سرير الخ وقيل يوضع الى القبلة طولا وقيل عرضا كما فى القبر الخ شامى جلد اول ص ۴۹۴، **اودمنيه په شرحه کی دی،** قال فى المبسوط والبدائع والمرغينانى يوضع على التخت طولاً القبلة الخ وقال الاسبيجابى لارواية فيه عن اصحابنا والعرف ان يوضع على قفاه طولا نحو القبلة هذا ان اتسع الكور والا فالاصح ان يوضع كما تيسر قاله صاحب البدائع والمرغينانى الخ، فقط

دلا اله الا الله سره دمحمد رسول الله بحث: سوال: (۲۷۱۸) دحديث شريف، لقنوا موتاكم لااله الا الله، څه مطلب دی، ايا صرف دلااله الاالله تلقين دي وسی اوکه نه دمحمد رسول الله ﷺ هم؟

جواب: که محمد رسول الله هم ووايی نوڅه حرج پکښی نسته اوکه صرف دلااله الا الله په تلقين باندی اکتفاء وکړی نودا هم جائز دی (۱). فقط

تلقين دی په کم وخت کی وسی؟ سوال: (۲۷۱۹) مړی ته تلقين دزنکندن په وخت کی اولی دی اوکه نه ددفن څخه وروسته، اويا په دواړو وختونو کی؟

جواب: داحنافو په نزد مړی ته تلقين دزکندن په وخت کی دی: كما فى الدر المختار ويلقن ندبا وقيل وجوبا بذكر الشهادتين (الى قوله) عنده قبل الغرغرة اﻫ **ليکن که چيری وروسته تردفن هم وکړی نوڅه باك نسته:** قال فى الشامى وانما لاينهٰى عن التلقين بعد الدفن لانه لاضرر فيه بل نفع لان الميت يستانس بالذكر على ماورد فى الاثار اﻫ، والله تعالٰى اعلم. كتبه عزيزالرحمٰن عفى عنه مفتى مدرسه هذا

---

(۱). ويلقن ندبا وقيل وجوبا بذكر الشهادتين لان الاولى لاتقبل بدون الثانية عنده قبل الغرغرة (درمختار) قال فى الامداد وإنما اقتصرت على ذكر الشهادة تبعا للحديث الصحيح، وإن قال في المستصفى وغيره: ولقن الشهادتين لا إله إلا الله محمد رسول الله، وتعليله في الدرر بأن الاولى لا تقبل بدون الثانية ليس على إطلاقه، لان ذلك في غير المؤمن، ولهذا قال ابن حجر من الشافعية: وقول جمع: يلقن محمد رسول الله أيضا لأن القصد موته على الاسلام ولا يسمى مسلما إلا بهما، مردود بأنه مسلم، وإنما المراد ختم كلامه بلا إله إلا الله اﻫ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۷۹۵ ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۰). ظفير

دزکندن په وخت کی ښځې ته نکریزی وریوری کول ناجائز دي: **سوال**: (۲۷۲۰) ښځی لره دزکندن په وخت کی نکریزی پوری کول مسنون دی اوکه نه؟

جواب: دانه مسنون دی اونه درست دی. بلکی ناجائز دی (۱).

دوهم فصل: مړی لره غسل ورکول

که جنب سړی مړسی نویوغسل ورته کافی دی اوکه نه؟ اوانجلی لره به غسل څوک ورکوی؟

سوال: (۲۷۲۱) که چیری یو سړی دجنابت په حالت کی مړ سی نو دهغه دپاره یو غسل کافی دی اوکه دجنابت دغسل ورکولو څخه وروسته به دوباره دمیت غسل ورکول کیږی اوکه چیری نابالغه انجلی مړه سی اوهلته یوڅوك غسل ورکوونکی ښځه نه وی نودهغې خاوند یابل یومحرم هغې لره غسل ورکولی سی اوکه نه؟ اوکه چیری اتفاقا څوك محرم یی هم نه وی نوغیر محرم دهغه دغسل مجازدی اوکه نه؟ اوکه دداسی مجبوری په حالت کی به دغسل اودکفن وغیره څخه بغیر ښخول کیږی.

جواب: یوغسل ورلره کافی دی، لیکن که چیری مړی په جنابت کی وو نومضمضه او استنشاق دی هم وروسی، کما فی الدرالمختار ولوکان جنبا اوحائضا اونفساء فعلا (امر المضمضه والاستنشاق) اتفاقا (۲)، اوشامی په دی کی بحث کړی دی لیکن په هرحال احتیاط په همدی کی (۳) دی، او نابالغه انجلی که چیری مراهقه نه وی نو هغې ته هریو سړی اوښځه غسل ورکولی سی، قال فی الفتح الصغیر والصغیرة اذا لم یبلغا حدالشهوة یغسلهما الرجال والنساء (۴)، او دمراهقی حکم په دی باره کی دبالغی په شان دی، او بالغی انجلی ته دښځو څخه ماسوا بل هیڅوك غسل نه سی ورکولی خاوند هم غسل نه سی ورکولی، بلکی که چیری یوڅوك محرم یی موجودوی هغه به دغه ښځی لره تیمم وروکړی، اوغیر محرم به پرخپل لاس په کپړه پیچلو سره تیمم وروکړی اوکفن به ورلره

---

(۱). ولا یسرح شعره ای یکره تحریما ولا یقص ظفره الا المکسور ولا شعره ولا یختن (درمختار) کما فی القنیة ان التزیین بعدها والامتشاط وقطع الشعر لا یجوز (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۰۳، ط. س. ج۲ ص ۱۹۷ - ۱۹۸ . ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص۸۰۱ ، ط. س. ج۲ ص۱۹۲. ظفیر

(۳). قوله : ولوکان جنبا ﷺ نقل ابو السعود عن شرح الکنز للشلبي أن ما ذکره الخلخالي: أي في شرح القدوري من أن الجنب یمضمض ویستنشق غریب مخالف لعامة الکتب اهـ. قلت: وقال الرملي أیضا في حاشیة البحر: إطلاق المتون والشروح والفتاوی یشمل من مات جنبا، ولم أر من صرح به لکن الاطلاق یدخله والعلة تقتضیه اهـ. وما نقله أبو السعود عن الزیلعي من قوله: بلامضمضة واستنشاق ولوجنبا، صریح في ذلك، لکني لم أره في الزیلعي. (رد المحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۰۱ ، ط. س. ج۲ ص۱۹۲). ظفیر

(۴). ردالمحتار باب صلاة الجنائز قبیل مطلب فی الکفن ج۱ ص ۸۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۱. ظفیر

واغوندی اولمونځ به ورباندی وکړی اودفن به یی کړی په درمختار کی دی، ماتت بین رجال اوهو بین نساء یمّمه المحرم فان لم یکن فالاجنبی بخرقة الخ (١) وفیه ایضا: ویمنع زوجها من غسلها ومسها الخ (٢). فقط

خاوند ښځی لره غسل نه سی ورکولی خو کتلی ورته سی: سوال: (٢٧٢٢) خپلی وفات سوی ښځی ته کتل اوغسل ورکول دخاوند دپاره جائزدی اوکه نه؟

جواب: دخاوند دپاره خپلی وفات سوی ښځی ته نظر کول جائزدی اوغسل ورکول ورته جائزنه دی. (ویمنع زوجها من غسلها لامن النظر الیها علی الاصح، درمختار (٣). اوچا چی پرجواز دغسل په فعل دحضرت علیؓ استدلال کړی دی چی هغهؓ حضرت فاطمی ﷞ لره دوفات څخه وروسته غسل ورکړی وو، نوصاحب ددرمختار ددی جواب داسی ورکړی دی چی دحضرت علیؓ فعل دهغهؓ سره مخصوص وو، ځکه چی دهغوی دزوجیت علاقه دوفات څخه وروسته باقی ده ،لقوله ﷺ کل سبب ونسب ینقطع بالموت الا سببی ونسبی (٤)، اوپه شامی کی یی دشرح مجمع څخه نقل کړی دی چی حضرت فاطمی ﷞ لره حضرت ام ایمن ﷞ غسل ورکړی دی حضرت علی ﷛ نه دی ورکړی، نودا دوهم جواب دی دذکر سوی استدلال څخه (٥). فقط

دجنابت په حالت کی یوه ښځه مړه سوه نودغسل طریقه یی څه ده؟ سوال: (٢٧٢٣) یوه ښځه دجنابت په حالت کی مړه سوه نودغسل طریقه یی څه ده؟

جواب: دجنابت په حالت کی په مرګ سره به دهغه په غسل کی څه تفاوت نه وی لکه څه رکم چی نورو مړو لره غسل ورکول کیږی نوهم هغه رکم غسل به دجنابت والا مړی ته هم ورکول کیږی. البته په درمختار کی یی دامداد الفتاح څخه نقل کړی دی چی جنابت والا مړی ته دي په غسل کی مضمضه اواستنشاق هم وروسی، لیکن شامی داخبره ردکړیده، اودزیلعی څخه یی نقل کړی دی چی دمړی غسل دمضمضی اوداستنشاق څخه بغیر (٦) دی.

---

(١). الدر المختار باب صلاة الجنائز قبیل مطلب فی الکفن ج١ ص ٨٠٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠١. ظفیر

(٢). ایضا ج١ ص ٨٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٨. ظفیر

(٣). الدر المختار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠٣. ظفیر

(٤). قلنا هذا محمول علی بقاء الزوجیة لقوله ﷺ کل سبب ونسب ینقطع بالموت الا سببی ونسبی، ایضا ج٢ ص ٨٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٨. ظفیر

(٥). قال فی شرح المجمع لمصنفه فاطمه ﷞ غسلتها أم أیمن حاضنته (ﷺ) ورضي عنها فتحمل روایة الغسل لعلي رضي الله تعالی عنه، علی معنی التهیئة والقیام التام بأسبابه (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٨). ظفیر

(٦). ویوضأ من یؤمر بالصلاة بلا مضمضة واستنشاق للحرج، وقیل یفعلان بخرقة، وعلیه العمل الیوم، ولو =

مړي لره رانجه لګول او سر ور ږمونځ کول څنګه دي؟ سوال: (٢٧٢٤) دمړي په سترګو کي رانجه اچول، اوسر ورږمنځول دکفن کولو څخه وروسته درست دي اوکه نه؟

جواب: درست نه دي، په درمختار کي دي، ولا يسرح شعره اي يكره تحريمًا وفي الشامي عن القنية ان التزيين بعد الموت والامتشاط وقطع الشعر لا يجوز الخ (١). فقط

ښځه خاوند لره اوخاوند ښځي لره غسل ورکولي سي اوکه نه؟ سوال: (٢٧٢٥\١) ښځه خپل خاوند لره اوخاوند خپلي ښځي لره غسل ورکولي سی اوکه نه؟

محرم ښځو لره دمړک څخه وروسته غسل ورکولي سی اوکه نه؟ سوال: (٢٧٢٦\٢) نارينه دمنکوحي څخه بغير نورو محرمو ښځو لره غسل ورکولي سی اوکه نه؟

جواب: ١: ښځه خپل خاوند لره غسل ورکولي سی اوخاوند خپلي وفات سوي ښځي لره غسل نه سي ورکولي، البته دکتلو اجازه ورته سته. (٢)

٢: غسل نه سي ورکولي بلکي په داسي موقعه (ميت لره) دتيمم وهلو حکم دی (٣). فقط

خنثٰی مشکل لره به څوک غسل ورکوی؟ سوال: (٢٧٢٧) دخنثٰی مشکل دپاره غسل څوك ورکولي سی؟

جواب: خنثٰی مشکل لره هيڅوك غسل نه سي ورکولي، نه سړی اونه ښځه. بلکی دهغه دپاره به تيمم وهل کيږي. ويمم الخنثٰى المشكل لو مراهقًا، درمختار (٤). فقط

دچاچي غسل ورکول نه وي زده که چيري هغه غسل ورکړي نوڅه حکم دی؟ سوال: (٢٧٢٨) کم سړی ته چی مړی ته دغسل ورکولو طريقه نه وی زده، اوهغه مړی ته غسل ورکړی نو څه حکم دی؟

جواب: پرهغه باندی شرعًا څه ګناه نسته، ليکن حتٰی الوسع مړی لره غسل په داسی سړی باندی ورکول په کاردی چی څوك دسنت طريقی موافق مړی لره غسل ورکړی. فقط

دمړي دلمبولو دپاره دکورپه لوښوکی اوبه ګرمول اوغسل ورکول درست دي: سوال: (٢٧٢٩)

= كان جنبا أو حائضا أو نفساء فعلا اتفاقا تتميما للطهارة كما في إمداد الفتاح (درمختار) نقل ابوالسعود عن شرح الكنز للشبلی انما ذكره الخلخالی ای فی شرح القدوری من ان الجنب يمضض ويستنشق غريب مخالفة لعامة الكتب اھ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠١ ، ط. س. ج٢ ص ٩٢ و١٩٥). ظفير

(١). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٨ و ١٩٧. ظفير

(٢). يمنع زوجها من غسلها ومسها لا من النظر اليها على الاصح وهي لاتمنع من ذلك (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج١ ص٨٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٨). ظفير

(٣). اذا كان للمرأة محرم يممها بيده واما الاجنبي فبخرقة على يده ويغض بصره (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص٨٠٣ ، ط. س. ج٢ ص٢٠٢). ظفير

(٤). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٢. ظفير

دنن سبا دخلګو داطریقه هم ده چی مړی لره دغسل ورکولو دپاره دخپل کور پاك لوښی نه استعمالوی دارسم څنګه دی؟

جواب: دکور په پاکو لوښوکی په اوبه ګرمولو اوپه غسل ورکولوکی څه حرج نسته. فقط

که چیری ښځه په سړیوکی یاسړی په ښځو کی مړسی نو دغسل به څه صورة وی؟ سوال: (۲۷۳۰) که چیری ښځه په سړیو کی مړه سی اوبله ښځه ورسره نه وی، اویاسړی په ښځو کی مړسی اوبل سړی ورسره نه وی، نودغسل اودتجهیز اودتکفین به یی څه صورة وی؟

جواب: په درمختارکی یی دامسئله لیکلی ده: ماتت بین رجال اوهو بین نساء یممه المحرم فان لم یکن فالاجنبی بخرقة الخ (۱)، یعنی که کمه ښځه په سړیو کی مړه سوه یا سړی په ښځوکی مړسو، نوکه چیری څوك محرم یی موجودوی نوهغه دی بغیر دزړوکی څخه تیمم ورووهی. اوکه چیری محرم نه وی نوبیګانه شخص دی یوه ټوټه ټوکر پرخپلو لاسونو وپیچی اوتیمم دی ورووهی.

خاوند خپلی وفات سوی ښځی لره غسل ورکولی سی اوکه نه؟ سوال: (۲۷۳۱) په فتاویٰ عالمګیریه کی دی، چی خاوند خپلی وفات سوی ښځی لره غسل نه سی ورکولی، لیکن په بلوغ المرام کی یی په حوالی دنسائی اودابن ماجه سره لیکلی دی چی: رسول الله ﷺ فرمایلی وه چی ای عائشی: که چیری ته زما څخه مخکی وفات سوی نو زه به پخپله په خپل لاس باندی تالره غسل درکوم، دافرمایل څنګه دی؟ دعالمګیری لیکل صحیح دی اوکه څنګه؟

جواب: څه رکم چی په عالمګیری کی دی همدغه رکم په درمختار اوشامی وغیره دفقهی په کتابونوکی دی، اودحنفیه وو همدا مذهب دی اودحضور ﷺ فرمایل دهغوی په خصوصیاتوکی دی هم دغه رکم حضرت فاطمی رضی الله عنها ته دحضرت علی رضی الله عنه غسل ورکول دهغوی خصوصیت دی، لکه څنګه چی حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه همدا جواب ورکړی دی. کذا فی الشامی (۲).

دغسل ورکولو دپاره به مړی څه رکم څملوی؟ سوال: (۲۷۳۲) اکثره مړی می دغسل ورکولوپه وخت کی لیدلی دی، چی هغه دمخ پرقبله کولودپاره دمشرق اومغرب طرف ته

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۱. ظفیر

(۲). فتحمل روایة الغسل لعلی رضی الله عنه علی معنی التهیأ والقیام التام باسبابه ولئن تثبت الروایة فهو مختص به الا تری ان ابن مسعود رضی الله عنه لما اعترض علیه بذلك اجابه اما علمت ان رسول الله ﷺ قال ان فاطمة زوجتك فی الدنیا والآخرة فادعاء الخصوصیة دلیل علی ان المذهب عندهم عدم الجواز (ردالمحتار باب صلوة الجنائز ج۱ ص ۸۰۳ ، ط. س. ج ۲ ص ۱۹۸). ظفیر

څملوی نودغه رکم ښه دی اوکه نه شمال اوجنوب ته، کمه یوه طریقه مسنونه ده؟
جواب: په دواړه ډوله درست دی اودواړی طریقی دشریعت موافق دی کذا فی الشامی ([1]). فقط

په غیردینداری باندی مړی ته غسل ورکول ښه نه دی: **سوال**: (۲۷۳۳) نن سبا خلګو دا طریقه نیولی ده چی مړی لره په فقیرانو باندی غسل ورکوی اوپه دغه خلګوکی بدکار وغیره پیښیږی، لمونځ اوروژی ته نژدی هم نه ورځی، اودغسل احکام هم پوره کولی نه سی نوپه داسی خلګو باندی دغسل ورکول درست دی اوکه نه؟
جواب: په داسی خلګو باندی دغسل ورکول ښه نه دی، غسل ورکوونکی نیك سړی کیدل په کاردی ([2]).

مړی لره دغسل ورکولو په وخت کی به یی پښی کم طرف ته وی؟ سوال: (۲۷۳۴) دمړی دلمبولو په وخت کی پښی کم طرف ته کیدل په کاردی؟ بعضی خلګ خووایی چی دمړی پښی دقبلی طرفته کیدل په کاردی؟
جواب: داهم یوقول دی. لیکن ښه همدا دی چی مخ یی دقبلی طرف ته وی، اوسر یې د شمال طرف ته اوپښی یی دجنوب طرف ته وی. ([3]) فقط

دمړی دغسل هیئت څه رکم په کاردی؟ سوال: (۲۷۳۵) دغسل په وخت کی دمړی پښی کم طرف ته کول په کاردی؟
جواب: فی الدر المختار: ویوضع کما مات کما تیسر فی الاصح علی سریر مجمر الخ قال فی الشامی وقیل یوضع الی القبلة طولاً وقیل عرضًا کما فی القبر ([4])، افاده فی البحر الخ جلد اول ص ۵۷۳ کتاب الجنائز، ددی عبارت څخه واضحه سوه چی بعضو فرمایلی دی چی دقبلی طرف ته په مخ کولو سره دي څملوی لکه څنګه چی په قبر کی وی، لیکن صحیح ترینه داده چی کمه طریقه اسانه وی اوسهله وی. هغه رکم دی وکړی. معمول دادی چی مخ دقبلی طرف ته ورلره کوی. فقط

دغسل په وخت کی دحضور ﷺ پښی مبارکی کم طرفته وی: **سوال**: (۲۷۳۶) دغسل په وخت

([1]). وګوری ردالمحتار للشامی ج۱ ص۸۰۰ ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۵ باب الجنائز. ظفیر
([2]). والاولی فی الغاسل ان یکون اقرب الناس الی المیت فان لم یحسن الغسل فاهل الامانة والورع (غنیة المستملی ص ۵۳۷). ظفیر
([3]). ویوضع کما مات کما تیسر فی الاصح علی سریر مجمر وترا (درمختار) وقیل یوضع الی القبلة طولا وقیل عرضا کما فی القبر افاده فی البحر (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۷۹۹ – ۸۰۰ ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۵).
([4]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ص ۸۰۰ ج۱ ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۵. ظفیر

کی درسول الله ﷺ پښبی مبارکی کم طرف ته وی اوسر مبارك یی کم طرف ته وو؟

جواب: داهیڅ ځای منقول نه دی چی دغسل په وخت کی دهغه ﷺ پښبی مبارکی کم طرف ته وی اوسر مبارك یی کم طرف ته وو، لیکن دحضور ﷺ دا ارشاد دخانه کعبی په باره کی چی داستاسی قبله ده په ژوندانه کی اودمرګ څخه وروسته. دی طرف ته اشاره کوی چی لکه څنګه چی په قبر کی مړی اینبوول کیږی، نوهم هغه رکم یی دغسل په وخت کی هم څملوی، لکه څنګه چی اوس معمول دی. فقط

دمرګ څخه وروسته خاوند ښځی اوښځه خاوند ته کتلی سی: **سوال**: (۲۷۳۷) که چیری ښځه مړه سی نودخاوند دپاره ښځی ته بعد الصوت کتل جائز دی اوکه نه؟ یابرعکس صورة وی یعنی چی خاوند مړسی نوښځی لره خاوندته دمرګ څخه وروسته کتل جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیری ښځه مړه سی نودهغې خاوند ته دمرګ څخه وروسته هغې ته کتل جائز دی، اوهمدغه رکم عکس ددی درست دی، کذا فی الدر المختار وغیره (۱).

خنثٰی لره به غسل ښځه ورکوی اوکه سړی؟ **سوال**: (۲۷۳۸) یوداسی مړی چی دهغه سره ستر دسړی اودښځی دواړو دی نوهغه لره به غسل سړی ورکوی اوکه نه ښځه؟

جواب: که چیری مړی خنثٰی مشکل وی نوهغه لره به غسل نه ورکول کیږی، نه دي سړی غسل ورکوی اونه ښځه بلکی تیمم دي ورکړی، وتیمم الخنثٰی المشکل ولو مراهقا الخ، درمختار (۲).

مړی ته ولی غسل ورکوی؟ **سوال**: (۱\ ۲۷۳۹) مړی ته دغسل ورکولو وجه څه ده؟

مسلمان مړی ته غیر مسلم لاس وروړلی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۲\۲۷۴۰) که غیر مسلم دمسلمان بی روحه بدن ته ګوتی وروړی، یادمسلمان دپاره استغفاروکړی یادهغه دجنازی لمونځ وکړی نودهغه منع کول ضروری دی؟

جواب: ۱\ : مړی لره دغسل ورکولو څخه غرض دهغه نظافت اواظهار دحرمت وغیره (۳) دی.

---

(۱). ویمنع زوجها من غسلها ومسها لا من النظر الیها علی الاصح الخ وهی لاتمنع من ذالك ولوذمیة (الدر المختار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۰۳ ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۸). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۱. ظفیر

(۳). دغسل وجه فقهاؤ لیکلی ده: لتنجیسه بالموت قیل نجاسة خبث وقیل حدث (درمختار) وقدروی فی حدیث ابی هریره ﷺ سبحان الله المؤمن لا ینجس حیا ولامیتا الخ وقد اخرج الحاکم عن ابن عباس؄ قال قال رسول الله ﷺ لا تنجسوا موتاکم فان المؤمن لا ینجس حیا ولامیتا، وقال صحیح علی شرط البخاری ومسلم فیترجح القول بانه حدث الخ فانما یطهر بالغسل کرامة للمسلم (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۷۹۹ ، ط. س. ج۲ ص۱۹۴ و ۱۹۳. ظفیر

٢١: دمسلمانانو پرذمه چی کم غسل اودجنازی لمونځ وغیره فرض دی هغه دي پوره کړی، بیاکه چیری یوکافر لاس ورلره وروړی یا استغفارورته وکړی، یاپه خپل طورباندی دجنازی لمونځ وکړی، نودهغه نه چاته څه ضرر سته اونه څه نفع. خوکه چیری قدرت مو وی نومنع یی کی کنې پټه خوله سئ (١).

غسل هرڅوک ورکولی سی اوکه نه متعین سړی؟ اوپه غسل ورکونکی باندی غسل ضروری نه دی: **سوال**: (٢٧۴١) دغسل ورکونکی مقررکیدل په کاردی اوکه نه عام سړی یی ورکولی سی کله چی هغه دغسل دمسائلو څخه باخبره وی، اودغسل ورکونکی دپاره دغسل ورکولو څخه وروسته دغسل کول ضروری دی اوکه نه مسنون ؟

جواب: هریو باخبره اوپوه سړی غسل ورکولی سی، لیکن ښه دادی چی هغه سړی دي غسل ورکړی کم چی څه عوض اواجرت نه اخلی (٢). اومړی لره پرغسل ورکونکی باندی غسل کول ضروری نه دی.

خاوند دخپلې ښځې دجنازې سره لاس لګولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (٢٧۴٢) یوه نکاح سوی ښځه وفات سوه نو دهغې خاوند ته په قبر کی کښته کول او جنازی ته یی دلاس وروړل درست اوجائز دی اوکه نه دی؟

جواب: دښځی دمرګ څخه وروسته دهغې خاوند دهغې څخه اجنبی سی اودنکاح علاقه منقطع سی، ددی وجه غسل ورکول او ورسره دلاس لګول فقهاؤ ممنوع لیکلی دی، کما یجیئ عن الدر المختار، لیکن ورته کتل او دجنازی لوړول درست دی، اوقبر ته کښته کول یی هم دضرورت په وخت کی درست دی، ځکه چی قبرته دکښته کولو په وخت کی کفن حائل وی لهذا دضرورت په وخت کی پرکفن لوړ لاس لګول درست دی، یعنی هر کله چی یی څوك محرم موجودنه وی، اوکه چیری څوك محرم یی موجود وی نوهم هغه دي قبرته کښته کړی. قال فی الدر المختار: ویمنع زوجها عن غسلها ومسها لا من النظر الیها، وفی الشامی ناقلا عن الخانیة انه اذا کان للمرأة محرم یمسها بیده واما الاجنبی فبخرقته علی یده الخ. فقط

دمړی دغسل طریقه څه ده: **سوال**: (٢٧۴٣) که چیری دمړی دپاره دغسل ورکول وی نوپه کمه طریقه به یی ورکوی؟ ایا داغسل سنت دی اوکه فرض اوکه واجب دی؟ اوڅنګه به یی لمبوی؟ اوکم سړی چی بی ترتیبه مړی ته غسل ورکړی اودمړی په بدن باندی اوبه ښې

---

(١). قال الله تعالی وما دعاء الکافرین الا فی ضلال. ظفیر

(٢). والافضل ان یغسل المیت مجانا الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨۴ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٩). ظفیر

وبهوی اودغسل دقاعدی څخه ناخبره وی نودهغه غسل صحیح سو اوکه نه؟

جواب: دمړی دغسل طریقه داده چی داستنجاء کولو څخه وروسته دي اودس ور وسی او دهغه پرسر اوپرټول بدن باندی دی دبیری په پاڼوکی پخی سوی اوبه واچول سی اودهغه سر اوږیره دي په خطمی سره وپریمنځی اوپه چپه اړخ باندی دي وڅملوی اوپه راسته طرف باندی دي اوبه ورواچوی، بیادی پر راسته اړخ باندی وڅملوی اوپه چپه طرف باندی دي اوبه ورواچوی، بیادي یوشی ته په تکیه ورکولو سره کښېنوی اونس دی ور ومږی، که څه پلیتی ورڅخه ووزی هغه دي پریمنځی بیا دي پرې باسی اوپر ټول بدن دی اوبه ورواچوی، په دی کی به سنت او دفرض غسل ټول اداء سی، اوفرض صرف دټول بدن یووار پریمنځل دی، باقی نور ټول امور سنت دی، که چیری مړی ته بی ترتیبه غسل ورکول سو نو غسل اداء سو، لیکن ښه دادی چی دسنتو موافق ورته غسل ورکول سی لکه څنګه چی پورته ولیکل سو. فقط

دمړی دغسل دپاره څنګه اوبه پکاردي؟ **سوال**: (۲۷۴۴) دا مشهوره ده چی دمړی دغسل دپاره مخکی دبیرو په پاڼو کی جوش سوی اوبه، اوبیا په کافورو کی ګډی اوبه، اوپه دریم وار خالصی اوبه چی جوش سوی نه وی پکار دی (په دی کی صحیح کمه یوه ده)؟

جواب: شامی دمړی دغسل په باره کی داتفصیل کړی دی چی اول دي په خالصو اوبوسره غسل ورکول سی اوبیا دبیرو پاڼوکی په پخو سوو اوبو سره اودوهم وار دي ورباندی دکافورو والا اوبه واچوی (۱). فقط

په مجبوری کی خاوند خپلی ښځی ته غسل ورکولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۷۴۵) زید خپلی وفات سوی ښځی ته غسل ورکولی سی اوکه نه؟ (یعنی کله چی هلته بله ښځه موجوده نه وی) ؟

جواب: په شامی کی دی چی سړی دي خپلی مړی ښځی ته تیمم ورووهی پرخپل لاس به یوټوټه ټوکر وپیچی، اوغسل به نه ورکوی ځکه چی ښځی لره صرف ښځه غسل ورکولی سی، سړی که څه هم محرم وی خوبیا هم تیمم به ورکوی، قال فی الشامی: فلا یغسل الرجل المرأة وبالعکس آه ونقل عن الخانية أنه إذا كان للمحرم يممها بيده، وأما الاجنبي فبخرقة على يده ويغض بصره عن ذراعها، وكذا الرجل في امرأته إلا في غض البصر اه ولعل وجهه أن النظر أخف من

(۱). وذكر شيخ الاسلام أن الاولى بالقراح: أي الماء الخالص، والثانية بالمغلي فيه سدر، والثالث بالذي فيه كافور. قال في الفتح: والاولى كون الاوليين بالسدر كما هو ظاهر الهداية، لما في أبي داود بسند صحيح أن أم عطية تغسل بالسدر مرتين والثالث بالماء والكافور. (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۷). ظفير

المس فجاز لشبهة الاختلاف، شامی ج١ ص ٨٠٣ فقط ، والله تعالٰی اعلم مفتی مدرسه

جذامی لره به غسل ورکوی اوکه نه؟ سوال: (٢٧٤٢) جذامی لره به غسل ورکول کیږی اوکه نه؟

جواب: جذامی سړی که وفات سی نوهغه لره دي غسل ورکی لکه څنګه چی ټولو مسلمانانو ته ورکول کیږی اوتکفین اوتجهیز دي هم وروکړی دجنازی لمونځ دي باندی وکړی اودفن دي سی.

دحضرت علي ﷜ حضرت بی بی فاطمه ﵂ ته غسل ورکول څنګه وو؟ سوال: (٢٧٤٧) زید وایی چی حضرت علی ﵁ حضرت فاطمی ﵂ لره غسل ورکړی دی. موږ یی ولی نه سو ورکولی؟ داولادو دپاره دمور شونډی اوتندی مچول هم جائزدی، بله ډله وایی چی دزید اقوال مردود دی، دحضرت علی ﵁ غسل ورکول دخصوصیاتو څخه وو.

جواب: علامه شامیؒ دحضرت علی ﵁ حضرت فاطمی ﵂ دغسل ورکولو قصه نقل فرمایلی ده چی دشرح مجمع څخه دامعلومیږی چی حضرت فاطمه ﵂ ته حضرت ام ایمن ﵂ غسل ورکړیدی، اوحضرت علی ﵁ ته غاسل ویل مجاز دی ځکه چی هغوی دسامان بندوبست کړی وو، اوکه چیری تسلیم سی نوهغه دحضرت علی ﵁ خصوصیت دی، لکه چی څنګه ورته رسول الله ﷺ فرمایلی وو، ان فاطمة زوجك فی الدنیا والاخرة، او دخصوصیت دپاره بل دلیل داحدیث شریف هم دی، کل سبب ونسب ینقطع الا سببی ونسبی، په هرحال دخاوند دپاره خپلی ښځی ته غسل ورکول درست نه دی دزید قول غلط دی، اوبله ډله کمه چی دخاوند غسل ورکولو اودهغه مس اوتقبیل ته حرام وایی، دهغه قول صحیح اومعتبر دی. پاته دبچیانو دپاره دخپلی مور بوسه اخیستل اومچول ددی بحث څخه خارج دی په دی کی څه حرج نسته، ځکه چی مور دخپلو بچیانو محرمه ده او دبچیانو دپاره دخپلی مور سره لاس لګول اومخ ور مچول ممنوع نه دی، اوهم دغه رکم مور اوپلار لره دخپل اولاد سره دامعامله کول درست دی، په هرحال خاوند لره په هیڅ شان ذکرسوی افعال دخپلی مړی ښځی سره درست نه دی. فقط

دریم فصل : دمړو دکفن بیان

دکفن اغوستلو څخه وروسته دامام خط ورکول بی اصله دی: سوال: (٢٧٢٨) مړی لره دکفن اغوستلو څخه وروسته دمسجد دامام خط لیکل اوپه دواړو لاسونو کی ورته ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: بالکل بی اصله دی دغه کار، دداسی خطافعل څخه ځان ساتل په کاردی (١). فقط

(١). قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهورد، متفق علیه (مشکوٰة باب الاعتصام ص ٢٧).

په ژوندکی دځان دپاره کفن اوقبر تیارول څنګه دي؟ سوال: (۲۷۴۹) که یوسړی دخپل ځان دپاره په ژوند انه کی کفن اوقبر تیار کړی نو داجائز دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ویحفر قبرا لنفسه وقیل یکره والذی ینبغی انه لا یکره تهیئه نحو الکفن بخلاف القبر ([1])، ص ۱۲۹، اودشامی په نزد راجح دادی چی ځانته دقبرکښل جائزدی. وفی التتارخانیة ولابأس به ویؤجر علیه هکذا عمل عمر بن عبدالعزیز والربیع بن خیثم وغیرهما، شامی ([2])، فقط

دهلکانو او دانجونو دکفن تعداد څومره دی؟ سوال: (۲۷۵۰) دهلکانو اودانجونو دکفن تعداد څه دی؟

جواب: دهلکانو اودانجونو کفن که دبالغانو موافق وی نوښه دی، اوجائز داهم دی چی یوه یادوی کپړی وی، والمراهق کالبالغ ومن لم یراهق ان کفن فی واحد جاز، درمختار، اقول فحسن اشارة انه لو کفن بکفن البالغ یکون احسن. ردالمحتار ([3]). فقط

دښځی په کفن کی سینه بند سربیره پکاردی اوکه لاندی: سوال: (۲۷۵۱) سړی خپلی وفات سوی ښځی ته کتلی سی اوکه نه؟ اوقبرته یی کښته کولی سی اوکه نه؟ اوښځه هم خپل خاوند ته کتلی سی اوکه نه؟ اودښځی په کفن کی خرقه یعنی سینه بند ترټولو کپړو لوړ په کاردی اوکه نه دقمیص څخه لاندی؟ دلوړ او دلاندی څه مطلب دی؟

جواب: سړی خپلی ښځی ته دوفات څخه وروسته کتلی سی، اوپه قبرکی یی کښته کولی سی، اوښځه هم خپل خاوند ته کتلی سی، دسینی خرقه دلفافی څخه لاندی او دقمیص څخه لوړ کیدل په کاردی یعنی لفافه دي په نظر کی دټولو څخه لوړوی اودهغه څخه وروسته سینه بند، اوکه ترلفافی لوړ یی کښی ښووی نوبیاهم خرابی نسته، جائزدی، اول لفافه غوړول په کاردی، دپاره ددی چی دورنغښتلو څخه وروسته لوړ راسی ([4])، ویمنع زوجها من غسلها ومسها لا من النظر الیها علی الاصح (الی قوله) وهی لاتمنع من ذٰلك ([5]). درمختار .

دوباره جنازه کول درست دي اوکه نه؟ سوال: (۲۷۵۲) دجنازی دلمونځ کولو څخه وروسته

([1]). الدر المختار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۴. ظفیر

([2]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۴. ظفیر

([3]). ردالمحتار ج۱ ص ۸۰۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۴. ظفیر

([4]). وهی تلبس لدرع ویجعل شعرها ۔۔ (الی قوله) والخمار فوقه ای الشعر تحت اللفافة (درمختار) تربط الخرقة علی الثدیین فوق الاکفان یحتمل ان یرادبه تحت اللفافة وفوق الازار والقمیص وهو الظاهر آه (ردالمحتار ج۱ ص۸۰۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۴).

([5]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص ۸۰۳ ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۸. ظفیر

کله چې مړی ښخ سی، نوبیا ددغه مړی پرقبر باندی دجنازی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ که جائز وی نوکمو خلګو چې مخکی دجنازی لمونځ کړی وو هغوی هم په لمانځه کی شاملیدلی سی اوکه نه؟ اومخکنی امام دجنازی لمونځ دوباره ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: که چیری اولنی لمونځ ولی کړی وی، اویا دهغه په اجازه سره بل چا لمونځ ورکړی وی اوولی په جماعت کی شامل سوی وو، نوبیا بل هیچا لره دوباره پردغه مړی باندی یادهغه په قبر باندی لمونځ کول درست نه دی، په درمختار کی دی، وان صلی هو ای الولی بحق الخ لا یصلی غیره بعده (۱) اوکه چیری مخکنی لمونځ دجنازې ولی نه وی کړی نوهغه لره داعادې حق سته، لیکن کمو خلګو چې مخکی لمونځ کړی دی هغوی دې نه ورسره شریکیږی. (۲) فقط

دکفن په باره کی ذکر سوی تصریح درسته ده اوکه نه؟ سوال: (۲۷۵۳) دمړسوی سړی دپاره مسنون کفن صرف دری کپړی کفن، ازار اوڅادر دی، اودښځی دپاره پنځه کپړی زړوکی اوسینه بند دذکر سوی کفن څخه علاوه دی، اودکفن پیمائش دخټ څخه واخله تربجلکو پوری ازار یعنی تهبند دسرڅخه ترپښو پوری اوڅادر دازار څخه په اوږدوالی کی یولاس زیات دی، اوپلنوالی دازار اودڅادر دومره چې مړی پکښی په ښه ډول سره ونغښتل سی اولوپټه دلاس هومره اوسینه بند دسینی څخه واخله ترورنو پوری دی، نوایا داذکر سوی تصریح صحیح ده اوکه غلطه؟

سربیرنه څادر او دستکلی په کفن کی داخل دی که خارج؟ سوال: (۲۷۵۴\۲) سربیرنه څادر اودستکلې وغیره کم چې دغسل ورکونکی دپاره جوړیږی داپه کفن کی داخل دی اوکه نه؟

جواب: \۱\ : دښځی اودسړی دکفن کم تفصیل چې تاسی لیکلی دی داصحیح دی، دفقهی دکتابونو دتفصیل موافق دی (۳).

\۲\ : دکټ لوړ څادر اودغسل ورکوونکی دستکلی په کفن کی داخل نه دی لیکن سربیرنه څادر په دی وجه مستحسن دی چې مړی په عزت سره وړل پکاردی، اودستکلې په وجه دضرورت دغسل اومسی دعورت ضروری دی. فقط

چې مړی ته کفن ورکوی نو لاسونه دی کم ځای ورکښېښوول سی؟ سوال: (۲۷۵۵) مړی لره دکفن ورکولو په وخت کی دهغه دواړه لاسونه پرنس باندی ورکښېږدی اوکه نه سیده یې

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاۃ الجنائز ج۱ ص ۸۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۳. ظفیر

(۲). وفیه حکم صلاۃ من لا ولایة له کعدم الصلوۃ الخ (درمختار) والمراد یصلی علیه الولی ان شاء لاجل حقه لاسقاط الفرض (ردالمحتار باب الجنائز ج۱ ص۸۲۲ ، ط. س. ج۲ ص۲۲۳). ظفیر

(۳). وګوری ردالمحتار باب صلوۃ الجنائز مطلب فی الکفن ج۱ ص ۸۰۲ ، ط. س. ج ۲ ص ۲۲۳. ظفیر

کړی اودورنو سره برابر یی کښیږدی؟

جواب: دواړه لاسونه دي ورسیده سی (١). فقط

په کفن کی دلنګوټی (پټکی) ورکول مکروه دی: سوال: (٢٧٥٦) دعالمانو په کفن کی دپټکی ورکول سنت دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی، وتکره العمامة للمیت فی الاصح، مجتبٰی واستحسنه المتاخرون للعلماء والاشراف الخ وفی الشامی والاصح انه تکره العمامه بکل حال الخ (٢). نو معلومه سوه چی دعمامی کراهت راجح دی.

دسړی اودښځی په قمیص کی ګریوان کم طرف ته په کاردی؟ سوال: (٢٧٥٧) مړی که سړی وی اوکه ښځه دقمیص ګریوان یی شاته دځټ طرف ته کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دسړی اودښځی په قمیص کی که مساوات وسی نوپه دی کی هم څه حرج نسته ځکه چی ډیرو فقهاؤ درع اوقمیص مترادف فرمایلی دی، اوکمو فقهاؤ چی په دی کی فرق کړی دی نودهغه څخه هم لازم والی ددی ثابت نه دی، بلکی دمنیه په شرحه کی یی داتصریح فرمایلی ده چی داخبره پرعادت باندی موقوف ده، اوس چونکی عادت دادی چی دسړی اودښځی دواړو شق دګریوان پرسینه باندی وی، ددی وجه ددواړو په قمیص کی دادرست دی، اوکه چیری ذکرسوی فرق وسی نوبیا هم څه حرج نسته، غرض داچی دافرق لازم نه (٣) دی. فقط

پرجنازی لوړ څادر اچول ښکه دی؟ سوال: (٢٧٥٨) پرمړی باندی دمسنون کفن څخه علاوه اکثره خلګ پرسړی باندی یوڅادر اوپر ښځی باندی بله یوه رنګداره لوپټه دمړی وارثان خپل دعزت دپاره اچوی کم چی ددفن کولو څخه وروسته ګور کیندونکی اخلی، داکپړه مسنونه ده اوکه نه؟ بل داچی امام دغه کپړه کښته کړی، بیا دجنازی لمونځ کوی، نوداسی کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دمسنون کفن څخه علاوه دسړی او دښځی پرجنازه باندی په سپین څادر اچولو کی خوڅه حرج نسته لکه څنګه چی عام رواج دی، لیکن دښځی پرجنازه باندی رنګداره کپړه اچول ښه نه دی، لیکن کله چی هغه پاکه ده نو دلمونځ کولو په وخت کی دهغه سره

---

(١). ویوضع یداه فی جانبیه لا علی صدره لانه من عمل الکفار (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة الجنائز ج١ ص ٨٠٣، ط. س. ج ٢ ص ١٩٨). ظفیر

(٢). ردالمحتار باب صلوة الجنائز مطلب فی الکفن ج١ ص ٨٠٢ - ٨٠٧، ط. س. ج ٢ ص ٢٢٣. ظفیر

(٣). والقمیص من المنکب الی القدم والدرع هو القمیص الا انه الذی یفتح جیبه علی الصدر والقمیص یفتح جیبه علی الکتف وقد کان القمیص من عادة الرجال والدرع من عادة النساء فی الحیاة فکذا فی الموت (غنیة المستملی، فصل فی الجنائز، بحث ثالث تکفینه ص ٥٣٧ - ٥٣٨). ظفیر غفرله

لمونځ کول هم جائزدی، دلمانځه دپاره دهغه دکښته کولو ضرورت نسته، بلکې ښه داده چې داول څخه دی ورباندی رنګداره کېږه وانه چول سی ځکه چې مستحب داده چې پر مړی باندی دي سپینه کېږه وی ([1]). فقط

په كفن كى تهبند وركول څنګه دی اوپه قبركى دغوټی خلاصول پكاردی: سوال: (٢٧٥٩) نارينه مړی لره په کفن کی تهبند (یعنی دلنګ) ورکول په کاردی اوکه نه؟ اوچی مړی په قبر کی کښیږدی نودکفن غوټه (بند) خلاصول څنګه دی؟

جواب: دمرده سړی دپاره دری کپړی سنت دی قمیص، تهبند اوڅادر په کم کی چی مړی نغښتل کیږی اوپه هغه باندی غوټه لګول کیږی ([2])، دغه ټولی غوټی په لحد کی په ایښوولو سره خلاصول په کاردی لکه څنګه چی مروج دی، نو داطریقه دسنت موافقه ده ([3]). فقط

ددفن كولو څخه وروسته تلقين: سوال: (٢٧٦٠) ددرمختار روايت، ولا يلقن بعد تلحيده، څخه معلوميږی چی دښخولو څخه وروسته تلقين کول اونه کول برابردی، ليکن دشامی دعبارت څخه معلوميږی چی دښخولو څخه وروسته تلقين نه کول دمعتزله وو مذهب دی. شامی ذکر فی المعراج انه ظاهر الرواية ثم قال وفی الکافی عن الشيخ الزاهد الصفار ان هذا علی قول المعتزلة لان الاحياء بعد الموت عندهم مستحيل اما عند اهل السنة فالحديث ای لقنوا موتاکم الحديث، په پوره تشريح سره مو مطمئن کړئ!

جواب: دمعتزله ؤ قول دتلقين بعد التلحيد دممانعت او داستحالی دی، او داهل سنت والجماعت دمذهب حاصل دادی چی ممنوع نه دی بلکی دمحققينو دتحقيق موافق اولی تلقين بعد التلحيد دی، اوفی الحقيقة حديث مبارك، لقنوا موتاکم، پر مجاز باندی محمول دی، يعنی قريب الموت ته يی ميت وفرمايل، ليکن که چيری په حقيقت باندی حمل سی نوځه استحاله پکښی نسته او هغه هم جائزدی يعنی تلقين بعد التلحيد هم جائزدی، اوپه دی کی څه استحاله نسته اومنعوالی هم نسته کمايقوله المعتزله ([4]). فقط

([1]). ولاباس فی الکفن ببرد وکتان فی النساء ومزعفر ومعصفر بجوازه بکل مايجوز لبسه حال الحياة واحبه البياض (درمختار) والجديد والغسيل فيه سواء (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ص ٨١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٥). ظ

([2]). ويسن فی الکفن ازار وقميص ولفافة (درمختار) قوله ازار هو من القرن الی القدم الخ واللفافة تزيد علی ما فوق القرن والقدم ليلف فيها الميت وتربط من الاعلی والاسفل (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی الکفن ج١ ص٨٠٦ ، ط. س. ج٢ ص٢٠٢) معلومه سوه چی تهبند نوم دی دکوچنی څادر ددی څخه علاوه دبل يو شی نوم تهبند نسته. ظفير

([3]). ويستحب ان يدخل من قبل القبلة الخ وتحل العقدة للاستغناء عنها ويسوی اللبن عليه والقصب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی دفن الميت ج١ ص٨٣٢ – ٨٣٧، ط. س. ج٢ ص ٢٣٥). ظ

دجنازي دلمانځه دپاره جاينماز او دهغه حکم: **سوال**: (۲۷۷۱) په شريعت کی دمړی دجای نماز څه حقيقت دی اوکم امام چی دمړی جنازه وکړی اوهغه جاينماز واخلی برابره خبره ده که په خپل مصرف کی يی راولی، يابل چاته يی ورکړی نودا په شريعت کی څنګه دی که چيری امام دمړی جاينماز واخلی اوځانته ځينی څه کپړه جوړه کړی هغه واغوندی او لمونځ ورکوی نولمونځ يی صحيح کيږی اوکه نه؟ اوپه داسی امام پسی دلمانځه کول څنګه دی؟

جواب: جاينماز په کفن کی داخل نه دی [1]، دادي په کفن کی داخل ونه ګڼل سی، باقی دمړی ولی چی دغه کپړه چاته ورکړی هغه به يی مالك سی، ليکن اول خو ددغه کپړی دجاينماز ساتلو ضرورت نسته، اوکه چيری چاپه غلطی سره وساتی نوهغه دي مالك يعنی ولی ياپخپله وساتی، يادي يو محتاج ته ورکړی، که دمړی ولی امام لره هغه کپړه ورکړه اوامام دهغه څخه څه جامه جوړه کړه او وايی غوستله، اولمونځ يی پکښی ورکی نوپه هغه پسی لمونځ درست دی. فقط

دهندو په جوړه کړی کپړه کی کفن ورکول څنګه دي؟ **سوال**: (۲۷۷۲) په هندوستان کی هندوان وغيره کپړه جوړوی نودهغوی په جوړه کړی کپړه مړی ته کفن ورکول اوپه دغه جامو کی لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

جواب: درست دی [2]. فقط

دسړی دپاره درنګين کفن څه حکم دي؟ **سوال**: (۲۷۷۳) دسړی دپاره درنګين کفن څه حکم دی؟

جواب: په درمختارکی دی، واحبه البياض [3]، يعنی محبوب تر اوزيات خوښ سپين کفن

([4]). ولا يلقن بعد تلحيده وإن فعل لا ينهى عنه. وفي الجوهرة إنه مشروع عند أهل السنة ﴿ ومن لا يسأل ينبغي أن لا يلقن والاصح أن الانبياء لا يسألون ولا أطفال المؤمنين (درمختار) قال فی شرح المنية ان الجمهور على ان المراد منه مجازه ثم قال وانما لا ينهى عن التلقين بعد الدفن لانه لاضرر فيه بل فيه نفع فان الميت يستانس بالذكر على ماوردفی الاثار (ردالمحتار باب الجنائز ج۱ ص۷۹۷). ظفير

([1]). دکفن کم صراحت چی دفقهی اوداحاديث مبارکو په کتابونوکی دی په هغه کی دجاينماز ذکر هيڅ چيری هم نسته. ويسن فی الکفن ازار وقميص ولفافة الخ. (وګوری الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص۸۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۲). ظفير

([2]). چی هرڅوك يی جوړی کړی خو پاکوالی يی شرط دی، اوداپه بازار کی چی کمی کپړی دخرڅلاؤ دپاره راځی هغه حکما پاکی دی ترڅو پوری چی دهغه دناپاکوالی علم نه وی. ولو شك فی نجاسة ماء اوثوب اوطلاق اوعتق لم يعتبر وتمامه فی الاشباه (درمختار) فی التتارخانية من شك فی انائه اوثوبه اوبدنه اصابته نجاسة اولا فهو طاهر الخ وكذا ما يتخذه اهل الشرك او الجهلة من المسلمين كالسمن والخبز والاطعمة والثياب اه ملخصا (رد المحتار كتاب الطهارة قبيل ابحاث الغسل ج۱ ص ۱۲۷). ظفير

دی اوپه شامی کی یې مزعفر اومعصفرکپړه دسړی په کفن کی مکروه لیکلی ده (١) فقط

دمړ سړي او دښځې دپاره دکفن څومره کپړې دي؟ سوال: (٢٧٢٤) دمړ سړی او دښځی دپاره دکفن څومره کپړی سنت دی؟

جواب: دسړی دپاره دری کپړی په کفن کی سنت دی ازار، قمیص اولفافه، اودښځی دپاره پنځه دی قمیص، ازار، خمار، لفافه اوسینه بند (٢). اول دي لفافه وغوړول سی بیا قمیص اوبیا ازار. اودښځی دپاره ترلفافی لوړ قمیص بیا خمار بیا سینه بند، اوپه بعضو کتابونو کی دی چی سینه بند دقمیص څخه لوړ او دلفافی څخه لاندی دی (٣). فقط

دکعبې شریفې دغلاف کفن ورکول اوپه قبر کی ایښوول څنګه دي؟ سوال: (٢٧٢٥) دکعبی شریفی دلاندینی استر یا طرف څخه مړی لره کفن ورکول جائزدی اوکه نه؟ او دسرببیرنه غلاف ټوټه پرکمه باندی چی کلمه لیکل سوی وی دمړی سره په قبر کی ایښوول څنګه دی؟

جواب: ددغه برکتی کپړی څخه مړی لره کفن ورکول جائز دی اودبرکتونو موجب ده، او کلمه شریفه پرلیکل سوی کپړه دغلاف دمړی پرسینه باندی په ایښولو سره دفن کول هم که څه هم درست دی، لیکن ښه داده چی دمړی پرسینه باندی دخانه کعبی دغلاف داسی کپړه کښې ښوول سی چی په کمه یوه باندی کلمه شریفه نه وی. لخوف تلویثه کما علل به فی الشامی. فقط

دجُمعې په ورځ دمړ کیدونکی دجنازی دتاخیر رواج غلط دی: سوال: (٢٧٢٦) په عوامو کی دارواج دی چی دجُمعې په شپه کی یادجُمعې په سهار چی کله مړی وسی نو دهغه تکفین اوتجهیز ژر نه کوی په دی وجه چی دجُمعې دلمانځه څخه وروسته به ډیر خلګ دجنازی لمونځ وکی نوشرعا داجائز دی اوکه نه؟

---

(٣). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٥. ظفیر

(١). ولاباس بالکفن ببرود وکتان وفی النسائی بحریر ومزعفر ومعصفر (درمختار) قوله فی کفن النساء واحترز عن الرجال لانه یکره لهم ذالك (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠٩ ، ط. س. ج٢ ص٢٠٥). ظفیر

(٢). السنة ان یکفن الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص ولفافة الخ وتکفن المراة فی خمسة اثواب درع وازار وخمار ولفافة وحزقه تربط ثدییها (هدایه فصل فی التکفین ج١ ص ١٢١). ظفیر

(٣). ثم تبسط اللفافة اولاً ثم یبسط الازار علیها ویقمص ویوضع علي الازار ویلف یساره ثم یمین ثم اللفافة کذلك وهي تلبس الدرع ویجعل شعرها ضفیرتین علی صدرها فوقه اي الدرع تربط الخرقة علی الثديين فوق الاکفان یحتمل أن یراد به تحت اللفافة وفوق الازار والقمیص وهو الظاهر اهـ. وفي الاختیار: تلبس القمیص ثم الخمار فوقه، ثم تربط الخرقة فوق القمیص ؒ (ردالمحتار باب الجنائز مطلب فی الکفن ج١ ص ٨٠٨ – ٨٠٩ ، ط. س. ج ٢ ص ٢٠٤). ظفیر

جواب: په تجهيز اوتكفين كی تلوار كول په كاردی دجُمعې دلمانځه انتظار كول نه دی په كار، دامسئله (١) ده.

قميص څه ته وايي؟ سوال: (٢٧٢٧) دفقهی په كتابونو كی یی دكفن په بيان كی ازار، لفافه اوقميص ليكلی دی. ازار اولفافه خودوه غټ څادرونه دی، قميص څه شی دی؟ دكم صورة او وضعی وی؟ دكم ځای څخه تركم ځای پوری، يومولوی صاحب فرمايی چی ددی څخه مراد تهبند دی، دقميص څه معنٰی ده؟

جواب: دقميص معنٰی گرته ده چی په اُردو كی ديته كفنی وايی اوتهبند دازار (لنگ) ترجمه ده. دقميص په باره كی يی په شامی كی ليكلی دی چی (والقميص من اصل العنق الی القدمين بلا دخريص وكمين (٢)، (ترجمه) اوگرته يعنی قميص دښټ څخه تر قدمونو پوری په كارده بغير دبغلو گنډلو (ترخزو) څخه اوبغير دلستونو څخه، صورة دقميص دادی چی تقريبًا دونيم گزه كپړه به واخلی، اوهغه به غبرگه كړی اوپه مينځ كی به يې دومره چيری كړی چی سر په هغه كی راسی اودښټ څخه ترقدمونو پوری يې كيدل په كار دی.

دسړي اودښځي كفن: **سوال**: (٢٧٢٨) دسړی اودښځی دپاره څومره كفن كافی دی. او سربيرنه څادر كه وربانډی مستعار (په سوال دبل څخه غوښتل سوی) واچول سی نوددی څه حكم دی؟ اودسربيرنه څادر مستحق څوك دی؟

جواب: دسړی په كفن كی دری كپړی اودښځی دپاره پنځه مستحب دی (٣)، اوچی كم څادر وربانډی سربيرنه اچول كيږی، هغه په كفن كی داخل نه دی، څوك چی غريب وی، اوهغه دغه څادر په بيعه وانه خلی بلكی خپل يادبل چا څادر مستعار واخلی اووربانډی يی واچوی نوهم څه حرج پكښی نسته، بياهغه څادر چی دچاوی هغه لره دي وركړی اوكه چيری په بيعه يی اخيستی وی او وربانډی يی اچولی وی څنگه چی رواج دی نوبيا هغه ديو سړی حق نه دی بلكی داچونكی ملكيت دی، دهغه خوښه ده چی كه دځان سره يی ساتی اوكه يو محتاج ته يی وركوی. فقط

دنصرانی مورتكفين مسلمانی لورلره دعيسايی مذهب مطابق كول جائزنه دي:**سوال**: (٢٧٢٩)

---

(١). وكره تاخير صلاته ودفنه ليصلی عليه جمع عظيم بعدصلاة الجمعة الا اذا خيف فوتها بسبب دفنه (درمختار) والافضل ان يعجل بتجهيزه كله من حين يموت، بحر (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٣، ط. س. ج٢ ص ٢٣٢). ظفير

(٢). ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی الكفن ج١ ص ٨٠٢ ، ط. س. ج٢ ص٢٠٢. ظفير

(٣). كفن الرجل سنة ازار وقميص لفافة الخ كفن المرأة سنة درع وازار وخمار ولفافة وخرقة تربط بها ثدياها (عالمگيری مصری ج١ ص ١٥٠). ظفير

يوه نصرانيه ښځه مسلمانه سويده ليكن دهغې مور تراوسه پورې پرعيسايي دين باندي قائمه ده، اودخپلې لور كره اوسيږي، هغې خپلې لورته وصيت وكې چې كه چيرې زه مړه سوم نوما په هم هغه طريقې باندې كفن كړې اودفن مې كړې لكه څنګه چې دعيسايانو په دين كې طريقه ده نوكه دهغې مور مړه سي نولور ته يې دغه وصيت په خپله يادبل چاپه ذريعه پوره كول جائزدي اوكه نه؟

جواب: په دې صورة كې دشريعت حكم دادې، چې مسلمان سړې ياښځه دې دخپل نژدې قريب مور اوپلار وغيره كم چې په كفر باندې مړه سي، دهغه تكفين اوتجهيز دې په سنت طريقه باندې نه كوي، بلكې دناپاكې جامې په شان دې پريمنځي، اوپه ټوټه كې دې ونغاړي اوپه كنده كې دې واچوي، نوپه مسئوله صورة كې همدغه ركم كول په كار دي په وصيت باندې يې عمل نه دې كول په كار، كما قال فى الدر المختار ويغسل المسلم ويكفن ويدفن قريبه الكافر الاصلى الخ من غير مراعاة السنة فيغسله غسل الثوب النجس وليفه فى خرقة ويلقيه فى حفرة الخ (١).

<u>دمړګ څخه وروسته ښځه اوخاوند يوبل ته كتلې سي؟</u> سوال: (٢٧٧٠) خاوند اوښځه په خپلو كې ديوتن دوفات څخه وروسته دبل دزيارت څخه مستفيض كيدې سي اوكه نه؟

جواب: كتل ديوه بل ته درست دي، په درمختار كې دي، ويمنع زوجها من غسلها ومسها لا من النظر اليها على الاصح الخ وهى لا تمنع من ذالك (٢). فقط

<u>دكفن كولو په وخت كې چې دمړي څخه پليتي ووزي نودغسل دوباره كولو ضرورت نسته</u>:

سوال: (٢٧٧١) دمړي دلمبولو څخه وروسته دكفن كولو په وخت كې كه چيرې اودس مات ورڅخه ووتي نوغسل به دوباره وركول كيږي اوكه نه؟

جواب: غسل نه راګرځول كيږي، بلكې صرف پليتي دې پريمنځل سي (٣). فقط

<u>غير محرمې ښځې مړسړي ته نه سي كتلې</u>: **سوال**: (٢٧٧٢) دمړي مخ ښوول محرم اوغير محرم ښځو ته جائزدي اوكه نه؟

جواب: غير محرم ښځو لره لكه څنګه چې په ژوند كې داجنبې سړي مخ ته كتل منع دي نودمړګ څخه وروسته هم منع دي. فى حديث ابن ام مكتوم فعميا وان انتما الستما تبصرانه (٣). الحديث

---

(١). الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائزقبيل مطلب فى حمل الميت ج١ ص٨٣٢، ط.س. ج٢ ص ٢٣. ظ

(٢). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠٣، ط. س. ج٢ ص ١٩٨. ظفير

(٣). ولايعاد غسله لا وضوءه بالخارج منه لان غسله ما وجب ترفع الحدث الخ (الدر المختار على هامش رد المحتار باب الجنائز ج١ ص٨٠٢، ط. س. ج٢ ص ١٩٧). ظفير

(٣). مشكوٰة باب النظر الى المخطوبة ص ٢٦٩. ظفير

دتكفين څخه پاته سوي روپۍ په کم مصرف کې خرڅ سي؟ سوال: (۲۷۷۳) تیرکال چې سخته وبايي تبه خپره وه نوپه دې کتلو سره چې ډیر مسکینان مسلمانان دوبايي تبې ښکار کيدل اودغریبۍ په وجه دتجهیز اودتکفین سامان نه پیدا کیدی، نوبعضو مسلمانانو په خپلوکې چنده وکړه په دې غرض چې کم غریب مسلمان چې په وبايي تبه کې مړسي، نوکه چیرې بالکل مفلس وي نوهغه ته دې مفت کفن ورکول سي، اوڅوك چې څه ناڅه وس لري نوهغه لره دې په رعایتي قیمت باندې کفن ورکول سي په دې ډول څه پیسې ددې کار څخه باقي پاته سوې. ایا دباقي مانده رقم دخیر په بل یو مصرف کې لګیدلی سي اوکه نه؟

جواب: دغه رقم دې په غریبانو، کونډو ښځو اومحتاجانو باندې تقسیم سي، ځکه چې دورکونکو دطرف څخه ښکاره ده چې دباقي مانده رقم په باره کې دهغوی اجازه ده، یا اولاً کم غریبان خلګ چې وفات سي دهغوی په تکفین اوتجهیز کې یې ولګوی، او د ضرورت موافق دغریبانانو په خوراك اوپوشاك کې امداد وکړي، غرض داچې دغه رقم خیرات سوی دی، داپه همدغه رکم کارونو کې ولګوی اواصل خودا دی چې کمو خلګو دغه چنده ورکړیده دهغوی څخه دې پوښتنه وسي، په کم مصرف کې چې هغوی ووايي په هغه کې دې ولګول سي، لیکن که چیرې داګرانه وي، نوچونکې په فقیرانو باندې دصدقې اودخیرات کولو دهغوی دطرف څخه دلالةً اجازه ده، په دې وجه عامو فقیرانو اوغریبانانو اومسکینانو ته دغه رقم ورکولی سي، اودغریبانو په تجهیز اوتکفین کې یې مصرفول نور هم ښه دي ځکه چې ددغه دپاره دغه رقم جمع سوی وو، اوددې څه تخصیص دشریعت دطرف څخه نسته چې په همدې وبايي تبه کې څوك وفات سي هم دهغوی دپاره دې خاص وګڼل سي بلکې چې عامه وباء دخدای په فضل سره لیرې سوه. نودعامو غریبانو مړو په تجهیز اوتکفین کې ددې مصرفول درست دی. فقط

دحضرت علي ﷜ حضرت فاطمه ﷝ ته دغسل ورکولو وجه: سوال: (۲۷۷۴) حضرت مولانا عبدالحی صاحب ﷫ په نفع المفتی ص۱۴۲ کې فرمایي: اذا ماتت الزوجة حرم على الزوج ان يغسلها اويمسها، نو بیا حضرت علي ﷛ بي بي فاطمې ﷝ ته ولې غسل ورکړی وو، اوددې عکس هم جائزدی کما فعلت بسیدنا ابوبکر الصدیق ﷛ زوجته اسماء بنت عمیس ﷝ ؟

جواب: احنافو فقهاؤ دالیکلي دي چې دغه (کار) خاص دی دحضرت علي ﷜ او د حضرت فاطمې ﷝ سره، لکه څنګه چې حضرت علي ﷜ دحضرت عبدالله بن مسعود ﷛ په اعتراض باندې داجواب ورکړی وو، اما علمت ان رسول الله ﷺ قال: ان فاطمة

زوجتك فی الدنيا والاخرة الخ، شامی ([1])، اودعكس دجواز وجه داده چی دخاوند په مرگ باندی پرښځی باندی عده لازمه ده كمه چی دنكاح په علاماتو كی ده، نو دنكاح دتعلق باقی والی ددی خبری تقاضاء كوی چی ښځه دخپل خاوند سره لاس لگولی سی، اوهم غسل وركولی سی، په درمختار كی دی، وهي لا تمنع من ذالك ، أي من تغسيل زوجها دخل بها أو لا كما في المعراج، ومثله في البحر عن المجتبى. قلت، أي لانها تلزمها عدة الوفاة ولو لم يدخل بها، وفي البدائع: المرأة تغسل زوجها، لان إباحة الغسل مستفادة بالنكاح، فتبقى ما بقي النكاح، والنكاح بعد الموت باق إلى أن تنقضي العدة، بخلاف ما إذا ماتت فلا يغسلها لانتهاء ملك النكاح لعدم المحل فصار أجنبيا، الخ، ([2]) شامی ج١ ص ٥٧٢. فقط

كه په كفن اوپه غسل كی څه نقصان وی نوپه مړی باندی مؤاخذه نسته: سوال: (٢٧٧٥) كه دمړی په تكفين اوپه تجهيز اوپه غسل كی څه قسم بی احتياطی وسی مثلا دناجائز قيمت كفن واخيستل سی يادغسل په اوبوكی څه قسم پليتی وی نوددی ذمه واری به پر چا باندی راځی؟ اوپر مړی باندی خوبه څه قسم مؤاخذه نه وی اودكم سړی څخه چی دا قسم بی احتياطی سوی وی دهغه دمعافی څه صورة دی؟ او اوس ددغه وفات سوی دپاره څه دعاء وكړی؟ اوكه يا دايصال ثواب څه تدبير وكړی؟

جواب: په مړی باندی په دی وجه سره څه مؤاخذه نسته هغه مجبوره اومعذوره دی ([3])، اودچا څخه چی داكار سويدی هغه دي توبه اواستغفار وكړی اودمړی دپاره دي دبخښنی دعاء وكړی، اوهغه ته دي ثواب رسوی. فقط

كفن سوی مړسړی په پټو اچولو سره وړل څنگه دی؟ سوال: (٢٧٧٦) دمسلمان مړسړی دجنازی وړلو په وخت كی په څادر وغيره سره پرده كول يعنی مړی دڅادرپه غوړولو سره وړل په كاردی اوكه نه؟ ددی ثبوت كه په حديث شريف يافقه كی وی نوموړ خبر كړی.

جواب: قال رسول الله ﷺ ما رأه المؤمنون حسنا فهو عند الله حسن، وفی الدر المختار ولاباس بالزيادة على الثلاثة ويحسن الكفن لحديث، حسنوا اكفان الموتٰی، الحديث ([4])، لهذاچونكه پرمړی

([1]). فعلی المسلمين تكفينه فان لم يقدروا سالوا الناس له ثوبا فان فضل شيء رد للمتصدق ان علم والا كفن به مثله والا تصدق به (درمختار) قلت فی مختارات النوازل لصاحب الهداية فقير مات فجمع من الناس الدراهم وكفنوه وفضل شيء ان عرف صاحبه يرد عليه والا يصرف الي كفن فقيرا اخر ويتصدق به (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨١٠ – ٨١١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٢). ظفير

([2]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٨. ظفير

([3]). ارشاد ربانی دی: ولا تزر وازرة وزر اخرٰی (القرآن الكريم). ظفير

([4]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة الجنائز ج١ ص ٨٠٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٢. ظفير

لوړ پټو اچولو کی تحسین دمړی اواعزاز دمړی دی، اودفقهی درروایت موافق په دی کی څه حرج نسته اودا امر معروف بین المسلمین دی، په دی وجهو سره په دی کی څه حرج نه معلومیږی. فقط

دتکفین او دتجهیز اخراجات: **سوال**: (٢٧٧٧) زید وفات سو دوه هلکان اوڅلور لوڼی اویوه ښځه ځینی پاته سول، په کمو کی چی یوهلك اودوی انجونی نابالغه دی، دزید دوفات څخه وروسته دهغه مشر زوی دپلار په تجهیز اوتکفین متعلق ټول اخراجات دخپل خاص جیب څخه وکړل، په داسی صورة کی دزید دمتروکی څخه (دغه مشر زوی) دتجهیز او دتکفین دخرځ او دنابالغو اولادونو دودونو دخرځ وصولولو حقداردی اوکه نه؟ اودزید دمیراث څخه به هر وارث ته څومره حصه ورکول کیږی؟ ([1])

جواب: دتجهیز اودتکفین خرڅ دسنت موافق ځینی اخیستی سی اوکمه زیاتی خرڅه چی هغه په محتاجونو اوپه خپلو خپلوانو ډوډی خوړلو باندی وکړه هغه نه سی اخیستی، او په دی صورة کی به دزید دمیراث تقسیم په دی طریقه کیږی، چی کم حقوق په میراث باندی مقدم دی دهغه داداء کولو څخه وروسته به دزید دمیراث څلور شپیته سهام (حصی) جوړی سی چی اته حصی به یی ښځی ته اوڅوارلس څوارلس حصی به هریو زوی ته او اووه اووه حصی به یی هری یوی لورته ورکول سی.

مړی ته ګنډل سوی پرتوګ اوخولی په کفن کی ورکول څنګه دی؟ **سوال**: (٢٧٧٨) مړی که سړی وی اوکه ښځه (بعض خلګ) پرتوګ اوټوپی ورته په تار باندی وګنډی او دکفن کولو په وخت کی یی ور واغوندی داڅنګه دی؟

جواب: دسوال څخه داسی معلومیږی چی پرتوګ اوټوپی دمسنون کفن څخه بیل ورکول کیږی، نودا بالکل فضول دی اوناجائز دی، ټوپی اوپرتوګ په کفن کی داخل نه دی اونه ثابت دی، قال فی شرح المنیة السنة ان یکفن الرجل فی ثلة اثواب قمیص وازار ولفافة الخ، پرتوګ اوټوپی په کفن کی نه دی په کار مړی ته باید نه ورواغوستل سی، اوپه خام تار اوپوخ تار سره ګنډل برابردی. په هیڅ یوتار سره یی ګنډل نه دی پکاردی، تهبند دي ورته ناګنډلی ورکول سی ([2]) الجواب صحیح، بنده عزیز الرحمٰن عفی عنه.

دنابالغ کفن: **سوال**: (٢٧٧٩) نابالغه ماشومانو ته دبالغ په شان کفن ورکول درست دی اوکه نه؟

([1]). الاول یبدا بتکفینه وتجهیزه من غیر تبذیر ولا تقتیر (سراجی ص ۴). ظفیر

([2]). دازار دلفظ څخه ناګنډلی لنګ ثابت دی ددی دپاره دڅه نقل اودفقهی درروایت ضرورت نسته، دناګنډلی لنګ څخه مراد دادی چی کڅوړه دی نه ځینی جوړیږی البته که چیری عرض یې کم وی نوپه ګنډلوسره دي برداره عرض ورڅخه جوړول درست دی. جمیل

جواب: درست دی (۱)، فقط

دمړی دسربیرنه څادر سره دی څه وسی؟ **سوال**: (۲۷۸۰) بعضی ولیان دمړی سربیرنه څادر په قبرستان کی موجوده فقیر لره خیرات ورکوی، لیکن بعض خلګ یی جوماتونو ته ولیږی، دجوماتونو ذمه داران دغه څادر ترکلونو دبل لاوارث مسکین مړی په انتظار کی په صندوق کی بند ساتی، حالانکی په دی صورة کی کله وربانذی چینجی هم ولګیږی، اونقصان ورته ورسوی، کله چی څوك لاوارثه مسکین مړسی نو دهمدغه څادرونو کفن دهغه دپاره جوړکی، نوداسی کول شرعًا جائزدی اوکه نه؟ بعضی خلګ دافتوٰی ورکوی چی دمړی سره کم فقیر دخیرات اخیستو دپاره ځی ددغه څادر مستحق همدغه فقیر دی، نوکه چیری داقسم څادر یابله کپړه دمسجد دامام یامؤذن طالب علم مسکین په مصرف کی خرڅ سی نوجائز دی اوکه نه؟ که چیری دجومات امام دغه څادر دجومات دمشر دحکم څخه بغیر یو طالب علم لره ورکړی نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: دغه څادر دمړی دولیانو ملك وی یعنی چاچی مړی لره کفن ورکی اودغه څادرپی په مړی باندی واچوی دا دهغه ملکیت دی نوچی په کم غرض سره دغه پټو دجومات ذمه دارانوته ولیږل سی هم هغه ډول دی وسی که چیری دمړی ولیانو دغه څادر دهمدی دپاره لیږلی وی چی دیو لا وارثه مړی کفن ځینی وسی. نو دغه څادر دی دهمدغه کار دپاره کنبي ښوول سی اوددی خیال اعتبار نسته چی چینجی به باندی ولګیږی یاخراب به سی ولی چی په دی کی به دورکونکی دنیت اوغرض اعتبار کول کیږی. اوکه چیری دڅادر مالك دغه څادر ددی دپاره ورکړی وی چی یومسکین لره یاطالب علم لره دی ورکول سی نوهم هغه رکم دي وسی، دخپل طرف څخه دي څه کار دمالك دامر او دنیت څخه خلاف ونه سی، اودا ویل چی داحق دهغه فقیر دی کم چی دجنازی سره ځی، یاپه دغه قبرستان کی مقیم دی په کم کی چی دغه مړی دفن کیږی نودا خبره غلطه ده، دچا خاص سړی په دی کی څه حق نسته، نو معلومه سوه چی څه ورسره کوی هغه دي دڅادر دمالك په امر او اجازه سره وسی دهغه داجازی څخه خلاف هیڅ کار دي په ونه سی، اوکه چیری دڅادر مالك دجومات دذمه وار په رایه باندی پرې ایښی وی نوڅنګه چی هغه مناسب وګڼی ودی کړی، دهغه داجازی څخه خلاف بل چاته په هغه کی تصرف کول جائزنه دی. فقط

* * *

(۱). قوله فجسن اشارة الی انه لوکفن بکفن البالغ یکون احسن لما فی الحلیة عن الخانیة والخلاه الطفل الذی لم یبلغ حد الشهوة الاحسن ان یکفن فیما یکفن فیه البالغ الخ (ردالمحتار باب صلاة الجنازة ج۱ ص ۸۰۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۴). ظفیر

څلورم فصل: دجنازې پورته کولو بيان

دجنازې په ورلو کې دپښو والا تابوت استعمالول درست دي اوکه نه: سوال: (۲۷۸۱) دشملي قبرستان دښار څخه په دوه نيم ميله فاصله کې دی، دمالدارانو دجنازې څخه علاوه دغريبې طبقې دجنازې سره تلل دتلونکو دپاره دځان وبال جوړيږی ځکه چې دمالدارانو سره ډېر شمير کسان وی، اوغريبانو ته په مزدوی ورکولو سره هم مزدوران نه پيدا کيږی اوهمدا تکليف دلاوارثو خلګو دجنازې سره وی. دښار دڅه خلګو خيال دی چې يوداسې قسم تابوت دي جوړسي په کم کې چې پايې لګيدلی وی، نوايا دذکر سوو تکليفونو تر مخه دداسې تابوت استعمال خو به ناجائز نه وی؟

جواب: دجنازې په پورته کولو کې سنت دادی چې دجنازې (دکټ) څلور پښې څلور کسان پورته کړی اوپه اوږو باندې يې کښيږدي، په درمختار کې يې دمړی دپورته کولو ددې طريقې دبيانولو څخه وروسته فرمايلي دي، چې په شا باندې لوړول يا پرحيوان لوړ په ايښوولو سره وړل مکروه دي الخ، اوهمدا حکم دی پرموټر باندې دوړلو هم ، ([1]) ليکن دمجبورۍ اودضرورت په وجه داسې کول درست دي. کذا في الشامي ([2]) فقط

په ګاډي کې دمړی وړل څنګه دي: سوال: (۲۷۸۲) دلته قبرستان دښار څخه په دری ميله فاصله کې دی، خلګ مړی دومره ليری پياده نه سی وړلی، ددې دپاره سرکار يوه ډبه ټراموی ريل خاص دمسلمانانو دمړی وړلو دپاره جوړه کړيده، په هغه کې مړی په دې طريقه وړی چې مړی دګاډې په مخکې حصه کې کښيږدي اوټول خلګ وروسته کښيني، نودا جائز دي اوکه نه؟ که جائز وی نوپه ګاډې کې به څلورو سړيانو لوړ نيولې وی اوکه لاندې يې کښيږدی؟ اوڅومره لوړ يې ونيسی؟

جواب: کم وخت کې چې څه عذر نه وی نومستحب اوسنت دا دی چې جنازه دي څلور کسان لوړه کړی اويودی سی اوپه سپرلی وغيره باندې وړل يې مکروه دی. کما في الدر المختار اذا حمل الجنازة وضع ندباً مقدمها على يمينه ثم مؤخرها على يمينه ثم مقدمها على يساره ثم مؤخرها الى ان قال: ولذا كره حمله على ظهر الدابة الخ، ([3]) ليکن که ضرورت اوعذر وی لکه

([1]). ويكره عندنا حمله بين عمودى السرير بل يرفع كل رجل قائمة باليد لا على العنق كالامتعة ولذا كره حمله على ظهر دابته (الدرالمختار باب صلاة الجنائز مطلب فى حمل الميت ج۱ ص ۸۳۳ ط.س. ج۲ ص ۲۳۱). ظفير

([2]). قوله: ويكره عندنا # لان السنة التربيع وما نقل عن بعض السلف من الحمل بين العمودين ان ثبت فلعارض كضيق المكان اوكثرة الناس اوقلة الحاملين كما بسطه فى فتح القدير (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فى حمل الميت ج۱ ص ۸۳۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۱). ظفير

([3]). الدرالمختار على هامش رد المحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۳ ط.س. ج۲ ص ۲۳۱ . ظفير

څنګه صورت چې په سوال کی درج دی نودرست دی (١)، یعنی مړی دي په مخکی حصه کی کښېښوول سی. اوټول خلګ دي وروسته کښینی، داجائز دی، اوپه ګاډی کی داینبوولو دپاره دڅلورو سړیو اودوو سړیو څه قیدنه سته چې څوسړی یی راپورته کړی اوکښی یې ایږدی، نودرسته ده، لیکن ترګاډی پوری وړونکی او دجنازی لوړونکی څلور کسان کیدل په کاردی، ددی دپاره ښه داده چې څلور کسان یی په ګاډی کی کښیږدی او بیاکم وخت چې یی دګاډی څخه کښته کړی اوقبرستان ته یی وړی نوبیا دی هم څلور کسان یوسی اوپه ګاډی کی په اینبوولو کی بیا ددی ضرورت نسته چې دقدمونو څخه لوړ یی ونیسی. فقط

دجنازی دلوړولو مسنونه طریقه څه ده؟ سوال: (٢٧٨٣) په دی ملك کی دمړی څهل قدمی په دوو طریقو کوی، یوداچې په اړو باندی جنازه کښیږدی اولس قدمه ولاړسی نوڅلور نور کسان دجنازی پښی ونیسی همدغه رکم لس لس قدمه یې وړی اوکسان به بدلیږی، بله طریقه داده چې یوسړی دکټ پښی بدلوی اونور نه بدلوی اوداکسان دجنازی پښی په لاسونو کی نیسی اوپراوږو باندی یی نه وړی نودا دواړه صورتونه جائزدی دی اوکه نه؟

جواب: مستحب دادی چې خلګ دی علی سبیل البدلیة (نمبر په نمبر) جنازه پورته کوی اوهر یو سړی دي جنازه ونیسی، اول دي مخکنی حصه دجنازی پرخپلی راسته اوږی باندی کښیږدی بیادی دجنازې وروستنی حصه پررسته اوږه باندی کښېږدی او دهغه څخه وروسته دي دجنازی مخکنی حصه پرچپه اوږه باندی کښیږدی اودهغه څخه وروسته دی وروستنی حصه پرچپه اوږه باندی کښېږدی، اولس قدمه ضروری نه دی. خو که میسر سی نوښه دی کنی څه حرج پکښی نسته (٢). فقط

دوفات څخه وروسته خپلی بی بی لره اوږه ورکول درست دي: **سوال**: (٢٧٨٤) دخپلی بی بی دوفات څخه وروسته که خاوند هغې ته کتل یا دلاس وروړل یا اوږه ورکول وغواړی نو ورکولی یې سی اوکه نه؟

جواب: خاوند خپلی وفات سوی بی بی ته کتلی سی اودهغې بدن لره لاس وروړل دکپړی وغیره څخه بغیر ممنوع دی اودهغې جنازه لوړول اواوږه ورکول جائز اودرست دی (٣).

---

(١). وما نقل عن بعض السلف من العمل بين العمودين ان ثبت فلعارض كضيق المكان اوكثرة الناس اوقلة الحاملين (ردالمحتار باب صلاة الجنازة ج١ ص ٨٣٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣١). ظفير

(٢). واذاحمل الجنازة وضع ندبا مقدمها على يمينه عشرخطوات الخ ثم وضع مؤخره على يمينه كذلك ثم مقدمها على يساره ثم مؤخرها الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی حمل الميت ج١ ص ٨٣٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣١). ظفير

په جنازې پسې په لوړ اواز سره کلمه یا اشعار ویل درست نه دي: **سوال:** (۲۷۸۵) یوه فتوٰی دمطبع حمیدی پریس احمداباد څخه شائع سویده په کمه کې چې په جنازې پسې په لوړ اواز سره کلمه طیبه اونعتیه اشعار اوقرآن پاك ویل مستحب ګرځول سوي دي اودفقهي دمعتبرو کتابونو دعبارت یې داتاویل کړی دی چې داحکم په سلفوکې وو، اوس دزمانې بدلیدلو په وجه داحکم پاته نه سو، په دې صورة کې شرعًا څه حکم دی؟

جواب: قال فی الدر المختار کما کره فیها رفع صوت بذکر او قراءة فتح ، قوله: (کما کره الخ) قیل تحریما، وقیل تنزیها کما في البحر عن الغایة. وفیه عنها: وینبغي لمن تبع الجنازة أن یطیل الصمت. وفیه عن الظهیریة فإن أراد أن یذکر الله تعالی یذکره في نفسه، لقوله تعالی: (إنه لا یحب المعتدین) أي الجاهرین بالدعاء. وعن إبراهیم أنه کان یکره أن یقول الرجل وهو یمشي معها: استغفروا له غفر الله لکم اهـ. قلت: وإذ کان هذا في الدعاء والذکر فما ظنك بالغناء الحادث في هذا الزمان . ردالمحتار، ددې څخه معلومه سوه چې سلف صالحین اوفقهاء اومحققین په دې موقع باندې دذکر جهر وغیره څخه منع فرمایي. وهو الاحوط الاوفق بالقواعد الشرعیه (۱). فقط

دغیر مسلم همسایه جنازې سره تلل درست نه دي: **سوال:** (۲۷۸۲) که چیرې دیونصراني سره دهمسایه والي یا په بلې څه وجهې سره تعلق جوړ سوی وي، نو دهغه دمرګ څخه وروسته دهغه دجنازې سره دهغوی ترقبرستان پورې تللی سي که نه؟ همدغه رکم که چیرې مسلمان مړسي نودغه نصراني دهغه دجنازې سره تر قبرستان پورې تللی سي اوکه نه؟

جواب: دضرورت په وجه داسې کول جائز دي، کما ورد ان النبی ﷺ عاد یهودیًا مرض فی جواره. هدایه (۲)، وفی النوادر جار یهودی او مجوسی مات ابن له اوقریب ینبغی ان یعزیه ویقول اخلفه الله علیك خیرًا منه واصلحك الخ ص ۲۴۸، باب الحضر والاباحة. (۳)

چې روژه دارمړسي نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۲۷۸۷) روژه دارکه چیرې دروژې سره مړسي اوروژه ماته نه کړي نودهغه مرګ څنګه دی؟

جواب: په شامي کې دي چې که چیرې روژه دار صبر وکړي اوروژه ماته نه کړي اومړسي نوهغه ته ثواب ورکول کیږي، ګنهګاریږي (۴) نه.

---

(۳). ویمنع زوجها من غسلها ومسها لامن النظر الیهاعلی الاصح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص۸۰۳ ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۸). ظفیر

(۱). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص۸۳۵. ظفیر

(۲). هدایه اخرین کتاب الکراهیة مسائل متفرقه ج۴ ص ۴۵۸. ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ج۵ ص ۳۴۱. ظفیر

ايا ناپاكه سړي جنازي لره اوږه وركولى سي؟ سوال: (٢٧٨٨\١) نجس سړى جنازى ته لاس وروړلى سى اوكه نه؟

دجنازي سر دي مخكي وي: سوال: (٢٧٨٩\٢) جنازه دكور څخه تر قبرستانه پورى مخكى يى پښى او وروسته يى سر، داقاعده درسته ده اوكه نه؟ چونكى دانوى قاعده دشكوه اباد جامع جومات امام ښوولى ده، چى دجنازى سر مخكى لرل ممنوع دى، نودا خبره درسته ده اوكه نه؟

جواب: \١: ددغه سړى اوږه وركول درست دى (١).

\٢: سرمخكى لرل په كاردى دا دسنت موافق دى، اوپښى مخكى لرل اوسر وروسته ساتل درست نه دى، دا كار دسنتو څخه خلاف دى (٢). فقط

دعملونو اثر دمړي پر وزن نه كيږي: سوال: (٢٧٩٠) اكثره دغټ بدن والا مړى سپك وى اودمانده والا جوسه اوبدن دروند وى، ايا دروندوالى دنيكو عملونو اوسپكوالى دبدو عملونو نخښه ده اوكه برعكس ده يا څنګه؟

جواب: ددى دروندوالى يا سپكوالى په وجه سره څه حكم نه سو كولى داخبره دبارى تعالى حكم ته سپارلى ده چى دبارى تعالى په نزد څوك ښه دى اوڅوك بد؟ .

دمړه ښځي ولي خاوند نه دي بلكي عصبه دي: سوال: (٢٧٩١) داحد الزوجين دمرګ سره دهغوى په خپلو كى تعلقات قطع كيږى اوكه نه؟ يعنى چى ښځه مړه سى نوخاوند هغه ته كتلى سى اوكه نه؟ اودهغې جنازى ته اوږه وركولى سى اوكه نه؟ اودښځى ولى دهغه خاوند دى اوكه مور پلار او ورور؟

جواب: دښځى دوفات سره دهغه تعلقات منقطع كيږى، په دى وجه هغه لره غسل وركول او لاس ورسره لګول درست نه دى، ليكن دكتلو اجازه فقهاؤ وركړيده، اودسړى دمرګ سره دښځى تعلقات ترعدى پورى نه منقطع كيږى، نوددى وجه ښځه خپل وفات سوى خاوند ته غسل وركولى سى، اوجنازى ته اوږه وركول خودهرى وفات سوى ښځى جنازى لره درست دى، دخپلى وفات سوى ښځى جنازى لره هم درست دى، اودښځى ولى دهغه پلار او دهغه ورور وغيره عصبات دى خاوند ولى نه دى (٣).

---

(٤). ويوجر لو صبر مثله سائر حقوقه تعالى فافساد صوم وصلاة ﷺ (ردالمحتار فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم ج ٢ ص ١٥٨). ظفير عفى الله عنه

(١). دجنازى لوړوونكى دپاره پاكوالى شرط نه دى، البته دلمانځه دپاره پاكوالى ضرورى دى. ظفير

(٢). وفى حالة المشى بالجنازة يقدم الراس كمافى المضمرات (عالمگيرى مصرى باب الجنائز فصل رابع ج١ ص١٥٢). ظ

(٣). ثم الولى بترتيب عصوبة النكاح الا الاب فيقدم على الابن اتفاقا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٢٤ ، ط. س. ج٢ ص٢٢). ظفير

دجنازې سره لس لس قدمه تلل ثابت دي اوکه نه؟ **سوال**: (۲۷۹۲) جنازه چې کله واخلي نو څلویښت قدمه، لس لس قدمه خلګ شماري، دا دحدیث شریف څخه ثابت دی اوکه نه؟

جواب: داحدیث شریف یې په درمختار کې نقل کړی دی، من حمل جنازة اربعین خطوة کفرت عنه اربعین کبیرة، (۱) اوشامي داحدیث شریف دزیلعي څخه نقل کړی دی، اوپه بحر کې دبدائع څخه منقول دی، اودمنیه په شرح کې یې ویلي دي، داحدیث شریف حضرت ابوبکر صدیق ﷺ روایت کړی دی (۲) نوکه چیرې ضعیفه هم وي خوعمل باندې درست دی. فقط

که چیرې قبرستان دمشرق طرف ته وي نو دوړلو په وخت کې به دمړي سر کم طرف ته کوي؟

سوال: (۲۷۹۳) که چیرې قبرستان دمشرق طرف ته وي نو دمړي دوړلو په وخت کې یې سر کم طرف ته کړي؟

جواب: قبرستان چې هرطرف ته وي، که دمشرق طرف ته وي اوکه دمغرب طرف ته یا شمال اوجنوب طرف ته وي په هرحال دکټ سر مخ طرف ته په کاردی یعنی دمړي سر مخکې کیدل په کاردي (۳).

په ګاډي باندې دجنازې وړل مکروه دي: **سوال**: (۲۷۹۴) مړي قبرستان ته په ګاډي کې وړل څنګه دي؟

جواب: په درمختار کې دي: ویکره عندنا حمله بین عمودی السریر بل یرفع کل رجله قائمة بالید علی العنق کالامتعة ولذا کره حمله علی ظهر ودابة (۴)، ددې عبارت څخه معلومه سوه چې په ګاډي کې دمړي وړل مکروه دي. کما یظهرمن قوله کالامتعة، اوپه ضرورت اوعذر کې چې څنګه اسانه وي جائز دي. فقط

دجنازې څخه وروسته تلل پکاردي: **سوال**: (۲۷۹۵) دجنازې څخه وروسته تلل ښه دي اوکه نه مخکې؟

جواب: وندب المشی خلفها درمختار (۵) اومختار اومستحب دي دجنازې څخه وروسته تلل.

جنازه په لیرې لاره وړل ښه نه دي: **سوال**: (۲۷۹۶) مولوي اسحاق صاحب په وعظ کې دا فرمایلي دي چې جنازه په لیرې لاره باندې وړل نه دي په کار، داخبره صحیح ده اوکه نه؟

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی حمل المیت ج۱ ص ۸۳۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۱. ظ

(۲). ردالمحتار مطلب في حمل المیت ج۱ ص ۸۳۳ ، ط. س. ج۲ ص۲۳۱. ظفیر

(۳). وفی حالة المشي بالجنازة یقدم الراس کذا فی المضمرات (عالمگیری کشوری باب الجنائز ج۱ ص ۱۵۹). ظف

(۴). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۰۰ ، ط. س. ج۲ ص۱۹۵. ظفیر

(۵). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۱. ظفیر

جواب: مقتضیٰ دالفاظو دحدیث شریف، عجلوا به ([1])، او ددرمختار دعبارت، ویسرع فی جهازه ([2]) اودحدیث شریف دابوهریره ﷺ: اسرعوا بالجنازة، الحدیث ([3])، بیشکه دا ده چی بغیر دضرورت څخه پرداسی لیری لاره باندی جنازه وړل چی په هغه کی په دفن کولو کی تاخیر لازمیږی ښه نه دی، اودمستحب څخه خلاف دی.

<u>دغسل په وخت کی دمړی سرکم طرف ته کول په کاردی؟</u> سوال: (٢٧٩٧) دغسل په وخت کی دمړی سرکم طرف ته کول په کاردی؟

جواب: دمړی دغسل په وخت کی څه رکم چی سهولت وی مړی دی کښیږدی په هر ډول درست دی، برابره خبره ده که سر یی دقبلی طرف ته وی یا پښی، یاشمال طرف ته وی یا جنوب ته. كذا فی الدر المختار. اوښه دادی چی مخ یی دقبلی طرف ته وی، په شان دقبر ([4]).

<u>دبی بی جنازه مچولی نه سی</u>: سوال: (٢٧٩٨) که دچابی بی فوت سی نوخاوند دغه خپله ښځه مچولی سی اوکه نه؟

جواب: خاوند دخپلی وفات سوی ښځی سره ځان نه سی لګولی نو مچول یی هم جائزنه دی. ویمنع زوجها من غسلها ومسها لا من النظر الیها علی الاصح الخ، درمختار ([5]).

<u>مړی لره په کم هیئت کی دغسل ورکول ښه دی؟</u> سوال: (٢٧٩٩) دغسل په وخت کی دمړی داینښولو کیفیت طولا الی القبلة اوجنوبا شمالا منقول دی، دواړه صورتونه جائز اوثابت دی، لیکن مستفتی ددوو خبرو پوښتنه کول غواړی:

١. په دواړو صورتونو کی ښه اوزیات قابل اعتماد کم یو دی؟

٢.دحضور ﷺ غسل څه رکم وو؟

جواب: فقهاؤ راجح اواصح همدی ته فرمایلی دی چی کمه طریقه اسانه وی هم هغه دي اختیاره سی كذا فی الدر المختار.

اودمنیه په شرحه کی یی فرمایلی دی چی، والعرف ان یوضع علی قفاه طولا نحو القبلة هذا ان اتسع الکور والا فالاصح انه ان یوضع کما تیسر الخ ([1])، اوددی څخه یی مخکی دالیکلی دی:

([1]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص٧٩٩ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٣. ظفير

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٧٩٩ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٣. ظفير

([3]). مشکوة باب المشی بالجنازة ص ١۴۴. ظفير

([4]). ویوضع کما مات کما تیسر فی الاصح وقیل یوضع الی القبلة طولا وقیل عرضا کما فی القبر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠٠ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٥). ظفير

([5]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٨. ظفير

وقال الاسبیجابی لا روایة فیه عن اصحابنا الخ ([۱])، اودحضور ﷺ دغسل کیفیت چی کم منقول دی په هغه کی ددی ذکرنسته چی دغسل په وخت کی هغه ﷺ څه رکم څملول سوی وو، دهمدی وجه فقهاؤ غالبا دافرمایلی دی چی کم صورة اسانه وی هم هغه دی اختیار سی اوزموږ په علاقو کی معروف دادی چی حتٰی الوسع سر شمال ته او پښی جنوب ته په کولو سره دي څملول سی، لکه څه رکم چی دناجوړی دلمانځه یوصورة داهم دی اودا طریقه ددی حدیث شریف موافقه ده، قبلتکم احیاءً وامواتاً ([۲])، لکه څنګه چی په قبرکی په ایښوولو کی ددی رعایت سوی دی اودې ته یی سنت فرمایلی دی.

دوړلو په وخت کی دجنازي سرمخ ته پکاردي: **سوال**: (۲۸۰۰) هدیری ته دوړلوپه وخت کی دجنازي سرکم طرف ته په کاردی یعنی دمړی پښی دي کم طرف ته وی اوسرکم طرف ته؟

جواب: چی کم طرف ته ځی نودکټ سردی هغه طرف ته راولی. ([۳]) فقط

دیو عبارت مطلب: **سوال**: (۲۸۰۱)په عالمګیری باب حمل الجنازة کی د (علی طریق التعاقب) څه صورة دی؟ اودقاضی خان، لیطوف کل واحد منهم علی جوانبها الاربع الخ، څخه دجنازی دڅلورو واړه طرفونو څخه یو وار ګرځیدل مسنون معلومیږی.

جواب: ددی څخه غرض صرف دادی چی دجنازی څلور واړه پښی لوړی سی، داسنت دی، اوددی دپاره ددور ضرورت دی دانه چی دور اوطواف دجنازی مقصود دی ([۴]). هذا وهم باطل.

دنامحرمی ښځی جنازي لره داوړي ورکول درست دي: **سوال**: (۲۸۰۲) دنامحرمی ښځی جنازي ته اوږه ورکول څنګه دی؟ اواوږه څلور واړه پښو ته ورکول ضروری دی اوکه نه؟ اوهره یوه پښه ترځومره لیری پوری پورته کول ښه دی؟

جواب: دنامحرمی ښځی جنازي لره اوږه ورکول هم مستحب دی اوثواب دی، اوڅلور واړه پښی لوړول مستحب دی اوهره یوه پښه لس قدمه وړل مستحب دی، کنی چی څنګه

([۱]). ویوضع کما مات کماتیسر فی الاصح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۰۰ ، ط. س. ج۲ ص۱۹۵). ظفیر

([۲]). و ([۲]). غنیة المستملی فصل فی الجنائز ص ۵۳۴. ظفیر

([۳]). په درمختارکی دی: واذاحمل الجنازة وضع ندبا مقدمهاعلی یمینه ۲ ثم وضع مؤخرها علی یمینه (درمختار) قوله ندبا لان فیه ایثار الیمین والمقدم علی الیسار والمؤخر (ردالمحتار باب صلاة الجنازة ج۱ ص ۸۳۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۱). ظفیر

([۴]). فاذا حمل الجنازة وضع ندبا مقدمها وکذا المؤخر علی یمینه ثم وضع مؤخرها علی یمینه کذلك ثم مقدمها علی یساره ثم مؤخرها کذلك (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۱۲۳ - ۱۲۴ ، ط. س. ج۱ ص ۲۳۱). ظفیر

میسر سی ښه دی (١). فقط

دنامحرمه ښځی لوړول درست دی: سوال: (٢٨٠٣) دنامحرمی ښځی جنازه لوړول دسړیو دپاره څنګه دی؟

جواب: دښځی جنازه دغیر محرم سړیو دپاره لوړول درست اوثواب دی.

دجنازی سره دجای نماز وړل بی اصل دی: سوال: (٢٨٠٤) دجنازی سره دجای نماز وړل څنګه دی؟

جواب: جای نماز په کفن کی داخل نه دی، دابی اصل دی اوددی هیڅ ضرورت نسته.

دمسلمان دپاره دهندو مړی سره تلل اوپه کفن او دفن کی شریکیدل مباح دی: سوال: (٢٨٠٥) مسلمان لره دهندو دجنازی سره تلل اودهغه پټول جائزدی اوکه نه؟ اوهندو لره دمسلمان دجنازی سره تلل جائزدی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ویغسل المسلم ویکفن ویدفن قریبه الکافر الاصلی عند الاحتیاج فلو له قریب فالاولی ترکه لهم (٢) الخ، ددی عبارت حاصل دادی چی مسلمان دخپل نژدی قریب کافر دضرورت په وخت کی کفن اودفن کولی سی اوپه جنازه کی یی شریك کیدلی سی، لیکن دضرورت څخه بغیر ښه نه دی، نوکله چی دنژدی قریب کافر په باره کی داحکم دی، چی بغیر دضرورت څخه دهغه په کفن اودفن کی تکلیف کول ښه نه دی، نودغیرِ قریب په باره کی خوپه درجه اولی داحکم دی چی بې له ضرورته دهغه په کفن اودفن کی شریکیدل ښه نه دی، اومخ ته چی کم څه دمذهبی رسومو اداء کولو په باره کی په سوال کی لیکلی دی نودهغه په حراموالی کی څه تامل اوکلام نسته، اوکه چیری یو هندو دمسلمان دجنازی سره ولاړ سی دملاقات وغیره په وجهی سره نوهغه دي نه بندوی ځکه چی دمسلمانانو داخلاقو څخه دابعیده ده. فقط

قرآن کریم دجنازی سره وړل دسنتو خلاف دی: سوال: (٢٨٠٦) بعضی خلګ دمړی سره قرآن کریم په کټ کی کښیږدی اومقبری ته یی وړی، داڅنګه دی؟

جواب: داطریقه دسنتو څخه خلاف ده اوناجائز ده، دادي بالکل پریښوول سی. (٣) فقط

---

(١). واذا حمل الجنازه وضع ندبا مقدمها علی یمینه عشر خطوات الخ ثم مؤخرها الخ ثم مقدمها علی یسارها الخ ومؤخرها الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز، مطلب فی حمل المیت ج١ ص ٨٣٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣١). ظفیر

(٢). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز قبیل مطلب فی حمل المیت ج١ ص ٨٣٢ ، ط. س. ج١ ص ٢٣. ظفیر

(٣). په کتاب اوسنت کی هیڅ چیری ددی ثبوت نسته اونه فقهاؤ لیکلی دی بلکه کمه طریقه چی دحضور ﷺ او دصحابه کرامو ﷺ څخه منقوله ده دهغه خلاف ده، والله اعلم. ظفیر

پرجنازه باندي شوخ رنګه څادر اچول څنګه دي؟ سوال: (٢٨٠٧\١) پرجنازه باندی سور، ژړ وغيره شوخ رنګه څادر اچول څنګه دی؟

دجنازې دپاره ددروند پلنګ ساتل څنګه دي؟ سوال: (٢٨٠٨\٢) .دجنازې دپاره داسی دروند پلنګ ساتل چی هرڅوك يی نه سی لوړولی جائز دی اوكه نه؟

جواب: ١\: دامكروه دی ([1]).

٢\: په جواز كی يی خوڅه كلام نسته، ليكن سپك كټ ښه دی چی هرڅوك يی لوړولی او اوږه ورلره وركولی سی. فقط

دجنازې سره نعت، درود شريف ياقرآن كريم په اواز سره ويل ثابت نه دي: سوال: (٢٨٠٩) دجنازې سره كلمه توحيد ياقرآن كريم يادرود شريف يانعت وغيره په لوړ اواز سره ويل شرعًا ثابت دی اوكه نه؟ كه ثابت نه وی نوڅه حكم يی دی؟

جواب: داطريقه دسلفوصالحينو صحابه كرامو ﷺ اودتابعينو اوائمه مجتهدينو رحمهم الله څخه ثابته نه ده لهذا دابدعت اومكروه ده، اودتصريحاتو اودقواعدو فقهيه ؤ څخه ددی منع والی معلوميږی لهذا ددی پريښوول لازم دی ([2]). فقط

جنازه دبانس پرڅينه يا اندر پايه باندي وړل درست نه دي: سوال: (٢٨١٠) جنازه په تابوت كی وړل ياپه كټ كی وړل دحضور ﷺ په زمانه كی ددی رواج وو كه نه؟ ددی ځای خلګو دبانس ځينه تياره كړی اوپه هغه باندی مړی دهندوانو په شان وړی، نوپه دی طريقه مړی قبرستان ته وړل درست دی اوكه نه؟

جواب: دمسلمان جنازه دهندوانو په شان دبانسونو په ځينه باندی وړل درست نه دی، دمسلمان جنازه په احترام اوپه عزت باندی وړل په كاردی، اوپر كټ باندی دمړی دوړلو رواج دحضور ﷺ څخه تراوسه پوری دی، اوجنازه هم هغه كټ ياتخت ته وايی پركم باندی چی مړی وی، قال الازهری يسمی جنازة حتٰی يشد الميت عليه مكفنا الخ رد المحتار ([3]). فقط

دښځې ددفن اوكفن خرڅ دچا پرذمه دي؟ سوال: (٢٨١١) دوفات سوی ښځی دكفن دفن خرڅ دچاپه ذمه دی؟

([1]). والمستحب فيه البياض الخ ويكره للرجل المزعفر والمعصفر والحرير ولا يكره للنساء اعتبارا بحال الحياة (غنية المستملی ص ٣٨ فی تكفينه) دا دكفن حكم دی څه ركم چی په ژوند كی بعضی مخصوصه رنګينی كپړی دسړی دپاره مكروه دی همدغه ركم دمرګ څخه وروسته به هم مكروه وی. ظفير

([2]). قال النبی ﷺ من احدث فی امرنا هذا ما ليس منه فهو ردمتفق عليه (مشكوٰة باب الاعتصام ص ٢٧). ظفير

([3]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص٧٩٥ ، ط. س. ج٢ ص١٨٩. ظفير

جواب: په دې صورة کې دکفن اودفن خرڅ دخاوند پرذمه دی. قال فی الدر المختار: واختلف فی الزوج والفتوی علی وجوب کفنها علیه عند الثانی وان ترکت مالاً خانیه، ورجحه فی البحر ؒ وذکر فی شرح المنیة عن شرح السراجیة لمصنفها ان قول ابی حنیفة کقول ابی یوسف رحمہما اللہ . ([1]) فقط

دمشرق طرف ته دجنازې په وړلو سره که پښې دقبلې طرف ته سي، نودرست دی: **سوال**: (۲۸۱۲) که چیرې جنازه دمشرق طرف ته وړې نودمړي سر دقبلې طرف ته کړي اوکه نه دمشرق طرف ته؟ که سریې دمشرق طرف ته کړي نو دمړي پښې دقبلې طرف ته کیږي.

جواب: دمړي سرمخ ته کول په کاردي اوپه دې کې هیڅ حرج نسته چې دمړي پښې دقبلې طرف ته سي ([2]). فقط

پنځم فصل: دجنازې لمونځ

دجنازې دلمانځه څخه وروسته دکښېنستلو غلط رواج: **سوال**: (۲۸۱۳) دجنازې دلمانځه څخه وروسته اکثره خلک دسلام ګرځولو څخه وروسته کښېني اوالحمد اودرود شریف وغیره ووایي، اودجناب رسول الله ﷺ اوداصحابو اربعه ؓ ارواحو مبارکوته یې بخښي.

جواب: دجنازې دلمانځه څخه وروسته بله یوه دعاء مشروعه نه ده، نوداکار دجنازې دلمانځه څخه وروسته کول نه دي په کار ([3]). فقط

که دطاعون په وجه څوک وتښتي اوهغه هلته مړسي نوجنازه به یې کول کیږي: **سوال**: (۲۸۱۴) بیلمانځان یاکم خلک چې دطاعون څخه وتښتي نوکه چیرې هغوی بل ځای ته ولاړ سي اوهلته مړه سي نو دهغوی دجنازې لمونځ په کاردی اوکه نه؟

جواب: دهغوی دجنازې لمونځ کول په کاردي ([4]).

دلمانځه پرېښوونکي کافرنه دي جنازه به یې کول کیږي: **سوال**: (۲۸۱۵) عمر خلکو ته وعظ اونصیحت وکې، اودلمانځه دپابندې تاکید یې ورته وکې، ټول په خپل غفلت او په سستې باندې پښېمانه سول اودلمانځه دکولو وعده یې وکړه، لیکن زید وویل چې که زه لمونځ کوم اوکه نه یې کوم ستا راباندې څه، ماته دکارګرې په وجه دومره فرصت

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۰، وعبارتها اذا ماتت المراة ولا مال لها قال ابو یوسف رحمہ اللہ یجبر الزوج علی کفنها الخ وقال محمد رحمہ اللہ لایجبر الزوج والصحیح الاول اھ (ردالمحتار باب الجنائز ج۱ ص ۸۱۰ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۲). ظفیر

([2]). فی حالة المشی بالجنازة یقدم الراس کذا فی المضمرات (عالمگیری مصری باب فی حمل الجنازة ج۱ ص ۱۵۲، ط. ماجدیه ج۱ ص ۱۲۲). ظفیر

([3]). ولایدعوا للمیت بعد صلوة الجنازة لانه یشبه الزیادة فی صلاة الجنازه (مرقاة المفاتیح ج۲ ص ۳۲۹). ظفیر

([4]). هی فرض علی کل مسلم (درمختار ج۲ ص ۲۱۰). ظفیر

اومهلت نه پیدا کیږی چی لمونځ وکړم الخ دزید په دی خبرو سره دامر شرعی توهین لازمیږی اوکه نه؟ که چیری زید دتوبی څخه مخکی مړسی نودجنازی لمونځ به یی کول کیږی اوکه نه؟ شیخ عبد القادر جیلانی رحمه الله په غنیة الطالبین کی لیکلی دی، چی کم مسلمان باوجود دلمانځه دفرض گڼلوڅخه دسستی په وجه لمونځ ونه کړی اودی یوسړی دلمانځه طرف ته را وبلی اودی بیاهم لمونځ ونه کړی نوداسی سړی کافردی، ده لره دي دتوبی دپاره دری ورځی مهلت ورکول سی، نوکه چیری توبه ونه کاږی نوپه توره سره دي قتل سی، اوپر هغه دي لمونځ هم ونه سی داصحیح ده اوکه نه؟

جواب: حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه دحنبلی مذهب دی یعنی دحضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله دمذهب پیروی کوونکی دی دهغوی مذهب هم دادی کم چی هغوی په غنیة الطالبین لیکلیدی اودحضرت امام اعظم رضی الله عنه اودنورو امامانو مذهب دادی چی دلمانځه پریښوونکی فاسق دی اوواجب التعزیردی، کافرنه دی، نودهغه دجنازی لمونځ دي وسی. لقوله صلی الله علیه وسلم صلوا علی کل بر وفاجر الحدیث. نوپه دی صورة کی زید فاسق دی، هغه لره په کاردی چی توبه وکاږی، اولمونځ شروع کړی، اودجنازی دلمانځه حکم پورته ذکرسو چی کول یی په کاردی، البته که چیری زجراً داسی خلگ شریك نسی کم چی مقتداء دی اونور خلگ لمونځ وکړی نوتنها داسی کول درست دی. فقط

ماشوم ژوندی پیداسو اوبیا مړسونو حکم یی څه دی؟ سوال: (۲۸۱۲) دیوسړی په کورکی هلك ژوندی پیداسو، اودری څلور ساعته وروسته مړسو، هغوی دجنازی دلمانځه څخه بغیر ماشوم پټ کی، اوغسل یی هم ورنه کی. نوپه دی صورة کی دجنازی څه حکم دی، اوددغه خلگو دپاره څه جرم اوسزا ده؟

جواب: کم ماشوم چی ژوندی پیداسی دهغه دجنازی لمونځ کول فرض (۱) دی، بغیر دلمانځه ښخولو سره هغه خلگ گنهگار سوه چاته چی اطلاع وسوه، اوحکم دداسی مړی دلمانځه کم چی دلمانځه څخه بغیر دفن سوی وی دادی چی دهغه پرقبر دي جنازه وسی ترڅو پوری چی گمان دهغه دچاودلو او دخرابیدلو نه وی، چی ددی تحدید بعضو علماء دری ورځی بیان کړیدی، اوصحیح داده چی څه موده یی مقرره نه ده، ترڅو پوری چی دچاودلو گمان یی نه وی، نوترهغه وخته پوری وربانذی دلمانځه کول فرض (۲) دی، نو

---

(۱). ومن ولد فمات یغسل ویصلی علیه الخ ان استهل ای وجد منه مایدل علی حیاته بعدخروج اکثره (عالمگیری مصری ج۱ ص ۸۲۸ ، ط. م. ج۲ ص ۲۲۷). ظفیر

(۲). وان دفن واهل علیه التراب بغیر صلاة اوبها بلا غسل الخ صلی علی قبره استحسانا مالم یغلب علی الظن تفسخه من غیر تقدیر هوالاصح (درمختار) لانه یختلف باختلاف الاوقات حرا وبردا او المیت سمینا وهزالا =

اوس کله چي دغه موده هم تیره سوه نوپه دغه خلګو باندی ګناه پاته سوه، ددی کفاره داده چي توبه اواستغفار دي وکړي، اوپه ائنده کی دي داسی نه کوی بس همداکافی ده، ددی څخه زیات دي پردغه خلګو باندی څه تشدد ونه سی ځکه چي دناپوهی دوجه څخه داسی وسوه. فقط

که بی غسله اوبی جنازي دفن سی نوایا دهغه پرقبر باندی جنازه درسته ده؟ سوال: (٢٨١٧) مړی یی بی غسله اوبی جنازي پټ کی، ایا دغسل څخه بغیر دهغه پرقبر باندی دجنازي کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: په روایت دابن سماعه تردری ورځو پوری یاترعدم ظن دتفسخ دمړی پرقبر دهغه به لمونځ اداء سی اودهغه څخه وروسته ساقط کیږی ، فی الدر المختار اوبها بلا غسل فی الشامی هذا روایة ابن سماعه والصحیح انه لایصلی علی قبره فی هذه الحالة الخ ثم قال: وقال الکرخی یصلی وهو الاستحسان. فقط (١)

دخودکشی کوونکی جنازه به کول کیږی: سوال: (٢٨١٨) کم سړی چي خودکشی وکړی دهغه جنازه به کول کیږی اوکه نه؟

جواب: په دی کی اختلاف دی اوپه کولو باندی هم فتوٰی ده، کما فی الدر المختار من قتل نفسه ولوعمداً یغسل ویصلی علیه به یفتی (٢). فقط

دجنازي په صفونو کی دسجدی ځای پریښوول بی اصله دی: سوال: (٢٨١٩) مشهوره ده چي دجنازي په لمانځه کی دصف بندی کولو په وخت کی دصفونو په مینځ کی یو دسجدی ځای پریښوول په کاردی، ددی څه اصل دی؟

جواب: ددی اصل نسته اوڅه ضرر یی نسته (٣). فقط

ښځه دجنازي لمونځ ورکولی سی اوکه نه؟ سوال: (٢٨٢٠) ښځه دجنازي لمونځ ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: داخو ښکاره ده چي ښځه دسړیانو امامه کیدی نه سی، لیکن دجنازي په باره کی یی دالیکلی دی چي که چیری ښځه دجنازي په لمانځه کی امامه سوه نوکه څه هم امامت دهغې صحیح نه سو، او دسړیانو لمونځ په هغه پسی ونه سو لیکن چونکی پخپله دهغې

= وامکنة، بحر، وقیل یقدر بثلاثة ایام وقیل عشرة وقیل شهر (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٤). ظفیر

(١). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٢٢ – ٨٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٤. ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨١٥ ، ط. س. ج٢ ص ٢١١. ظفیر

(٣). کله چي په دی کی سجده نسته نو بیابه دځای پریښولو څه فائده وی. ظفیر

لمونځ سوی دی په دی وجه فرضیت ساقط سو، ځکه چی دجنازی لمونځ که صرف یوه ښځه هم وکړی نوفرض کفایه اداء سی، لسقوط فرضها الخ درمختار، بواحد کما لو امت امرأة الخ ای امت رجلا فان صلاتها تصح وان لم یصح الاقتداء بها (۱)، فقط

ایا دوباره دجنازی لمونځ درست دی: سوال: (۲۸۲۱) دجنازی لمونځ دوباره کول څنګه دی؟ اودښخولو په وخت کی دمړی مخ ښوول څنګه دی؟

جواب: دجنازی لمونځ دوباره کول درست نه دی، اوپه دی کی څه تفصیل دی، کم چی دفقهی په کتابونوکی ذکر سوی دی، چی که چیری مخکی ولی لمونځ نه وی کړی، اونه دهغه په اجازه سره لمونځ وسو، بلکی داسی خلګو لمونځ وکی، چاته چی حق دمخکی والی نه وو، نوولی دوباره لمونځ کولی سی، اوکه چیری ولی اول لمونځ وکی نوبیا نورو ته اجازه نسته چی مکرر لمونځ وکړی، په درمختار کی دی: وان صلی هو ای الولی بحق بان لم یحضر من یقدم علیه لا یصلی غیره بعده الخ وفیه ایضا لان تکرارها غیر مشروع الخ (۲) اودمړی مخ کتل درست دی، لیکن په کفن کی دپټولو څخه وروسته مخ ورخلاصول ښه نه دی.

دحرام کاره دجنازی لمونځ: سوال: (۲۸۲۲) زید دهندی سره نکاح وکړه، ددی څخه وروسته زید دهندی دسکه خور حفیظی سره هم نکاح وکړه، دواړی خوندی دزید په نکاح کی دی، زید حفیظه نه جلا کوی، اوس مسلمانانو لره دهغه سره څه معامله کول په کار دی، اوکه چیری زید مړسی نو دهغه دجنازی لمونځ کول په کاردی اوکه نه؟

جواب: دزید نکاح دحفیظی سره ونه سوه، (۳) زید لره پکاردی چه حفیظه دځان څخه جلا کړی اوتوبه وکاږی کنی سخت عاصی اوفاسق به سی، او مسلمانانو لره دهغه سره تعلق پریښول لازم دی خوراك څښاك دی ورسره پریږدی اودوررولی څخه دی بیل کړی، البته کم وخت چی توبه وکاږی، اوحفیظه پریږدی نوهغه وخت دي ورسره تعلق شروع کړی، او که چیری زید په دی حالت کی مړسو نودهغه دجنازی لمونځ کول پکاردی، لکه څه رکم چی په حدیث شریف کی دی، صلوا علی کل بر وفاجر، الحدیث، یعنی دهریو نیك اوبد دجنازی لمونځ کوی. فقط

دجنازی دلمانځه دپاره وصیت او دهغه حکم: سوال: (۲۸۲۳) یوسړی وصیت وکی چی زما دجنازی لمونځ دي فلانی ورکی په یوې وجهی سره هغه سړی لمونځ ورنه کړی سو بلکی بل سړی لمونځ وکړی، نولمونځ وسو اوکه نه؟

---

(۱). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۲، ط. س. ج۲ ص۲۰۸. ظفیر
(۲). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، باب صلاة الجنائز ج۱ ص۸۲۲، ط. س. ج۲ ص ۲۲۳. ظفیر
(۳). حرمت علیکم امهاتکم الخ وان تجمعوا بین الاختین (النساء) . ظفیر

جواب: لمونځ درست سو اوفرض اداء سوه. ([1]) فقط

دقادياني دجنازي لمونځ درست نه دي: **سوال**: (۲۸۲۴) يوسړي قادياني سو. كه هغه مړ سو نو جنازه به يې كول كيږي اوكه نه؟ اودمسلمانانو په هديره كي دفن سي اوكه نه؟

جواب: هغه كافر اومرتد دی، كه مړسی نو دجنازي لمونځ يی مه كوی او دمسلمانانو په قبرستان كی يی مه ښخوی ([2]). فقط

دجنازي دلمانځه ښخه وروسته بيا كورته راوړل اودعاء كول بدعت دي: **سوال**: (۲۸۲۵) دجنازي دلمانځه ښخه وروسته (ځينی كسان) مړی كورته راوړی اودعاء غواړی داجائز دی اوكه نه؟

جواب: كله چي دمړی دجنازي لمونځ وسو، نوبيا كورته راتلل اوپه لاس پورته كولو سره دعاء غوښتل نه دی په كار، ځكه چي دابدعت دی. فقط

دجنازي په لمانځه كی څلور تكبيرونه دي ليكن پنځه تكبيره ويونكی كافرنه دی: **سوال**: (۲۸۲۶) يوسنی سړی دجنازي په لمانځه كی پنځه تكبيره وايی نوهغه داسلام څخه خارج دی اوكه نه؟

جواب: پنځه تكبيره دجنازي په لمانځه كی ويل داحنافو په نزد مشروع نه دی، دجنازي په لمانځه كی څلورتكبيرونه دی اوپه كم روايت كی چی پنځه تكبيرونه دی، هغه منسوخ دی ليكن په دی وجه سره به دمسلمان تكفير نه سی كيدی ([3])، البته سبی (صحابه ؤ ته ښكنځل كوونكو) روافضو ته بعضو فقهاؤ كافر ويلي دی. وتفصيله فی كتب الفقه. فقط

دڅپليو سره دي دجنازي لمونځ نه كوي: **سوال**: (۲۸۲۷) دجنازي لمونځ دڅپليو سره جائز دی اوكه نه؟

جواب: چونكی اعتبار دڅپليو نه وی، نوپه دی وجه سره په دي څپليو كی ياپه څپليو باندی په پښو ايښوولو سره دي دجنازي لمونځ نه كوی. ([4]) فقط

([1]). وفی الكبرىٰ الميت اذااوصی بان يصلی عليه فلان فالوصية باطلة وعليه الفتوىٰ (عالمگيری مصری ج۱ ص۱۵۳)

([2])..اما المرتد فيلقی فی حفرة كالكلب (درمختار) ای لا يغسل ولا يكفن (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۳ ، ط. س. ج ۲ ص ۲۳۰). ظفير

([3]). وهی اربع تكبيرات ؂ يرفع يديه فی الاولی فقط ؂ ويثنی بعدها ؂ ويصلی علی النبی ﷺ كما فی التشهد بعد الثانية ؂ ويدعو بعد الثالثة ؂ ويسلم بلا دعاء بعد الرابعة ؂ ولو كبر امامه خمسا لم يتبع لانه منسوخ (در مختار) لان الاثار اختلف فی فعل رسول الله ﷺ فروی الخمس والسبع والتسع وأكثر من ذلك إلا أن آخر فعله عليه الصلاة والسلام كان أربع تكبيرات فكان ناسخا لما قبله، عن الامداد. وفي الزيلعي: أنه ﷺ حين صلی علی النجاشي كبر أربع تكبيرات، وثبت عليها إلی أن توفي فنسخت ما قبلها (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۷ – ۸۱۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۲). ظفير

([4]). ثم الشرط ؂ شرعاً ما يتوقف عليه الشيء ولا يدخل فيه هی ستة طهارة بدنه ؂ ومكانه ای موضع قدميه =

دولد الزناء په غوړکی اذان او دهغه دجنازې حکم: **سوال**: (۲۸۲۸) دولد الزنا په غوږ کی اذان کول اودهغه دجنازې لمونځ کول ضروری دی اوکه نه؟

جواب: په غوږکی ورته داذان کول مستحب دی (۱)، اودهغه دجنازې لمونځ فرض دی په حدیث شریف کی دی، صلوا علی کل بر وفاجر، الحدیث (۲)، نو دولد الزناء دجنازې لمونځ کول په کاردی، کذا فی کتب الفقه (۳). فقط

دجنازې دلمانځه څخه څوک بندول نه دي پکار: **سوال**: (۲۸۲۹) یوسړی نکاح سوی ښځه وتښتوله، بیا ددغه ښځی څخه یوزوی پیدا سو، اویوڅو میاشتی وروسته وفات سو، او هغه سړی په جنازه کی شریك سو، نوپر امام باندی لازم دی چی دغه سړی دجنازې څخه بند کړی اوکه نه؟

جواب: دجنازې دلمانځه څخه دي نه منع کوی، ځکه چی دا فرض کفایی ده، او دفرض داداء کولو څخه څوك مسلمان بندول که څه هم هغه فاسق وی جائزنه دی (۴). فقط

دډمو جنازه دي هم وسي: **سوال**: (۲۸۳۰) دډمو او دډمانو دجنازې لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اوضروری دی اوکه نه غیرِ ضروری؟

جواب: دجنازې لمونځ ددی خلګو هم ضروری دی، لقوله ﷺ صلوا علی کل بر وفاجر (۵)، الحدیث. فقط

چاچی هیڅکله هم لمونځ نه وی کړی دهغه دجنازې لمونځ هم ضروری دی: **سوال**: (۲۸۳۱) کم سړی چی چا هیڅ چیری په لمانځه کولونه وی لیدلی دهغه دجنازې لمونځ کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: جائز بلکی ضروری دی (۶).

دبی لمانځه مرده دراکشولو خبره غلطه ده: **سوال**: (۲۸۳۲) داخبره مشهوره ده چی کم سړی

= او احدهما ان رفع الاخری وموضع سجود اتفاق فی الاصح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوٰة ج۱ ص۳۷۳ ، ط. س. ج۱ ص ۴۰۲). ظفیر

(۱). لایسن لغیرها (درمختار) ای من الصلوة والا فیندب للمولود (ردالمحتار باب الاذان ج۱ ص ۳۵۷ ، ط. س. ج۱ ص ۳۸۵). ظفیر

(۲). شرح فقه اکبر للملاعلی قاری ص ۲۹۱. ظفیر

(۳). وهی فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة بغاة وقطاع الطریق الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰). ظفیر

(۴). والصلاة علیه فرض کفایة بالاجماع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص۸۱۱ ، ط. س. ج ۲ ص ۲۰۷). ظفیر

(۵). و (۶). الصلوة واجبة علی کل مسلم برا کان اوفاجرا وان عمل الکبائر رواه ابوداود (مشکوٰة باب الامامة ص ۱۰۰). ظ

په ټول عمرکی خلګو هیڅ چیری پرلمانځه کولو نه وی لیدلی، نودهغه دجنازی لمونځ دي نه کول کیږی، اوځلوینبت قدمه دي راکش کړی، هلته دي جنازه وسی، په حقیقت کی داخبره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: داخبره غلطه مشهوره ده، دهرنیك اوبدجنازه کول په کاردی اوراکشول یی درست نه دی، دهغه دپاره استغفار کول په کاردی، ذلیله کول یی نه دی په کار، ځکه چی اخر کلمه ویونکی مسلمان خودی (١). فقط

<u>په جومات کی دجنازی لمونځ مکروه دی</u>: **سوال**: (٢٨٣٣) دحنفیانوپه نزدپه کمو جوماتونو کی چی فرض لمونځونه په جماعت سره کیږی په هغه کی دجنازی لمونځ دجنازې په جومات کی په اینبوولو سره جائز دی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدر المختار وکرهت تحریما وقیل تنزیهاً في مسجد جماعة هو ای المیت فیه وحده أو مع القوم واختلف فی الخارجة عن المسجد وحده اومع بعض القوم والمختار الکراهة مطلقاً خلاصه، بناءًا علی أن المسجد انما بنی للمکتوبة وتوابعها الخ وهو الموافق لاطلاق حدیث أبی داؤد من صلی علی میت فی المسجد فلا صلاة له، قال فی ردالمحتار قوله فلا صلاة له هذه روایة ابن ابی شیبه وروایة احمد وابی داود. فلاشیئ له وابن ماجه فلیس له شيء، وروی فلا اجر له، وقال عبد البر هی خطاء فاحش والصحیح فلا شیئ له الخ (٢)من صلی علی میت في مسجد یقتضي کون المصلی في المسجد سواء کان المیت فیه أو لا، فیکره ذلك أخذا من منطوق الحدیث، ویؤیده ما ذکره العلامة قاسم في رسالته من أنه روي: أن النبي ﷺ لما نعی النجاشي إلی أصحابه خرج فصلی علیه في المصلی قال: ولو جازت في المسجد لم یکن للخروج معنی اهـ. مع أن المیت کان خارج المسجد. شامی ج١ ص ٥٩٤ باب صلٰوة الجنائز.

ددی روایاتو څخه معلومه سوه چی دحنفیانو په نزد دجماعت په جومات کی دجنازی لمونځ مکروه دی اوپه دی کی اختلاف دی چی مکروه تحریمی دی اوکه تنزیهی (٣) فقط

<u>دحضرت سعد ﷺ واقعه اودهغه جواب</u>:**سوال**: (٢٨٣) دمسلم شریف دالاندینی حدیث شریف مورِ حنفیانو لره قابلِ حجت اوواجب العمل کیدی سی اوکه نه؟ عن ابی سلمة بن عبدالرحمٰن ان عائشةؓ لما توفی سعدؓ بن ابی وقاص قالت ادخلوا به المسجد الخ،

(١). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص٧٢٧ – ٨٢٨، ط. س. ج٢ ص ٢٢۴ – ٢٢٢. ظفیر

(٢). ایضا ج١ ص ٨٢٨، ط. س. ج٢ ص ٢٢٢. ظفیر

(٣). ویظهر ان الاولی کونها تنزیها اذا الحدیث لیس هو نصا غیر مصروف ولا قرن الفعل بوعید (حاشیه مشکوٰة ص ١۴۵) . ددی څخه معلومه سوه چی مکروه تنزیهی لره ترجیح ده. والله اعلم. ظفیر

جواب: نه سی کیدی، دا (حدیث شریف) مؤوّل دی اومبنی علی العذر دی، ددی څخه علاوه نورو حضراتو په دی باندی انکار فرمایلی دی ([1]).

که پرماشوم باندی دناپوهی په وجه جنازه ونه کړی نوڅه حکم دی: سوال: (۲۸۳۵) دیو سړی په کور کی انجلی پیداسوه څه وخت ژوندی وه بیا مړه سوه، دناپوهی په وجه سره دجنازی دلمانځه څخه بغیر پټه سوه، په څلورمه پنځمه ورځ چی معلومات وسو، نوجنازه وسوه، دکلی خلګو دغصی څخه هغه سړی دځان څخه جلا کی اوتنګوی یی نوپه دی باره کی څه حکم دی؟

جواب: په درمختار کی دی چی کم ماشوم ژوندی پیداسی اوبیا وروسته مړسی، نوهغه لره دغسل ورکولو څخه وروسته دهغه دجنازی لمونځ کول په کاردی ([2])، اوداهم په درمختار کی دی چی که چیری دلمانځه څخه بغیر مړی پټ سی، نودهغه په قبر باندی دجنازی لمونځ ترهغه وخته پوری کول په کاردی، چی دمړی دچاودلو اودرژیدلو ګمان نه وی، اوددی اندازه دهری یوی مځکی په حالت باندی کیدی سی، اوبعضو فقهاؤ فرمایلی دی چی تردرو ورځو پوری دهغه په قبر باندی لمونځ کولی سی، اوبعضو ویلی دی چی ترلسو ورځو ([3]) پوری، بهرحال داچی وویل سوه چی دهغه پرقبر باندی دجنازی لمونځ دی وسی داحکم شرعی دی، ددی په وجه سره لمونځ کوونکو لره مطعون کول او تنګول اودهغوی سره مقاطعت اومتارکت کول حرام اوناجائز دی اوداسی کونکی عاصیان او فاسقان دی. فقط

دجُمعي په ورځ دستنو څخه مخکی دجنازی لمونځ کول: سوال: (۲۸۳۲) دانبار چاؤنی جامع جومات ته چی کله دچاجنازه راسی دجُمعي په ورځ نودهغه دجنازی لمونځ دجُمعي دفرضوڅخه وروسته دسنتوڅخه مخکی وکی اوجنازه دجومات څخه په دباندی ایښوولو سره کوی داجائزدی اوکه نه؟

جواب: دا صورة چی جنازه دجومات څخه دباندی وی اولمونځ ګذاره په جومات کی وی،

([1]). پوره حدیث په دې ډول دی، قالت ادخلوا به المسجد حتی اصلی علیه فانکر ذلك علیها فقالت والله لقد صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم علی ابنی بیضاء فی المسجد سهیل واخیه، رواه مسلم (مشکوٰة باب المشی بالجنازة والصلاة علیها ص ۱۴۵) وردته عائشة ﷺ یجوز ان یکون ذالك بضرورة دعت الیه وقد یروی ان رسول الله ﷺ کان معتکفا لهذا صلی فی المسجد وایضا قالوا ان مصلی المسجد کان مکانا متصل المسجد فیحتمل ان روایة الصلوة فی المسجد باعتبار کونه قریبا من المسجد (اللمعات حاشیه مشکوٰة ص ۱۴۵). ظفیر

([2]). ومن ولد فمات یغسل ویصلی علیه ان استهل ای وجد معه مایدل علی حیاته بعدخروج اکثره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج ۱ ص ۸۲۸ – ۸۲۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۷). ظفیر

([3]). حواله څو ځایه تیره سویده. ظفیر

دېته بعضو فقهاؤ جائز فرمايلي دی، ليکن اصح داده چی داصورة هم مکروه دی. کذافی الدر المختار. باقی دا چی دجُمعې دفرضو څخه وروسته دجنازی لمونځ وکی، اوسنت دجنازی دلمانځه څخه وروسته وکړی نودا جائزدی په دی کی څه حرج نسته (۱). فقط

کم سړی چی دلمانځه او دروژی څخه بندول کوی او دحج او دتلاوة څخه خلک منع کوی نو دهغه جنازه کول څنګه دی؟ **سوال:** (۲۸۳۷) زید دعوه کوی چی زه کامل صوفی او عارف يم، اوخپل مريدان دلمانځه روژی، زکوٰة حج دقرآن پاك دتلاوت څخه منعه کوی، خپل طالب ته وايی چی مرشد ته تعظيمی سجده کوه، اوزنانو ته دبی پرده ګی ويناکوی، وغيره وغيره، نو دداسی سړی دپاره څه حکم دی، او دهغه دجنازی لمونځ کول او د مومنانو په قبرستان کی يی ښخول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دزيد دعوٰی دنصوصو قطعيه ؤ صريحه ؤ څخه خلاف ده او دهغه انکار دشريعت دخبرو څخه ښکاره دی اودلمانځه روژی اودزکوٰة وغيره څخه پخپله کفر (۲) دی، او تجويز دسجدی لغيرالله کفر دی، قال الله تعالٰی لاتسجدوا لشمس ولا للقمر واسجدوا لله الذی خلقهن (۳)، الآية نوزيد چی کم قائل دی دکفری کلماتو اوداعتقاداتو کفريه محدثه ؤ اواعتقاد لرونکی دی دمحرمه ؤ، عارف اوصوفی نه دی بلکی ملحد اوګمراه کوونکی دی اوددی حديث شريف مصداق دی، واتخذوا رؤوسًا جهالا فضلوا واضلوا (۴)، نو هغه پير جوړول او دهغه سره بيعت کول حرام دی:

ای بسا ابليس ادم روئی هست　　　پس بهر دستی نبايد داد دست

اوکه چيری دغه ذکرسوی سړی په همدی اعتقاد باندی مړسی نودهغه دجنازی لمونځ مه کوی اودمسلمانانو په قبرستان کی يی مه دفن کوی. فقط

درضاعی خورسره دنکاح کول کفرنه دی دهغه دجنازی لمونځ درست دی: **سوال:** (۲۸۳۸) يو مسلمان وفات سو، بعضو کسانو هغه ته کافر ووايه، اودجنازی لمونځ يی باندی ونه کی اوچی چاورباندی وکی نوهغوی يی ملامت کړل، اوکافر يی ورته ووايه، په دی وجه سره

---

(۱). وکرهت تحريما وقيل تنزيها فی مسجد جماعة هوای الميت فيه وحده اومع القوم واختلف فی الخارجة عن المسجد وحده اومع بعض القوم والمختار الکراهة مطلقا الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب صلوة الجنائز مطلب فی کراهة صلاة الجنائزة فی المسجد ج۱ ص ۸۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۴ – ۲۲۵). ظفير

(۲). من قال لا اصلی جحودا او استخفافا اوعلی انه لم يؤمر اوليس بواجب فلا شك انه کفر فی الکل (شرح فقه اکبر ص ۲۰۹). ظفير

(۳). حٰم السجده : ۱۹. ظفير

(۴). دحديث پوره الفاظ دادی حتی اذا لم يبق عالما اتخذ الناس رؤسا جهالا فسئلوا فافتوا بغير علم فضلوا واضلو، متفق عليه (مشکوٰة کتاب العلم فصل اول ص ۳۳). ظفير

چې دوفات سوی میل اومحبت دخپل زوی سره وو، او زوی یې کافر وو، ځکه چې دهغه زوی دکمی ښځې سره نکاح کړې وه، هغې دده دمور شیدې چښلې وې، نوپه دې صورة کې شرعًا څه حکم دی؟

جواب: په دې صورة کې به پر زوی باندې دکفر حکم نه کیږي اوپر وفات سوی پلار باندې به هم دکفر حکم نه کیږي، لهذا دهغه دجنازې لمونځ کول واجب اوفرض دی، لقوله ﷺ صلوا علی کل بر وفاجر [1]، الحدیث، نوکمو خلګو چې دهغه دجنازې لمونځ وکی هغوی دشریعت دحکم موافق عمل وکی، اوکمو خلګو چې دهغه دجنازې لمونځ ونه کی، اوکوونکی یې ملامت کړل هغوی پرغلطۍ باندې دي اوعاصیان دي هغوی لره توبه کښل په کار دي. فقط

که هندوان اومسلمانان په یوځای کې وسوزي اومړه سي نوجنازه به یې څنګه کوي؟ سوال: (۲۸۳۹) یوځو کسان مسلمانان اوهندوان په اورکې وسوزل اومړه سول اونه معلومیدله چې هندو کم یودی اومسلمان کم یودی نو دجنازې لمونځ به یې څنګه کوي؟

جواب: دمسلمان په نیت سره دې لمونځ وسي. کذا فی الشامی [2] . فقط

درسیو پرکټ باندې دجنازې په اینبولو سره دجنازې لمونځ جائزدی: **سوال**: (۲۸۴۰) په رسۍ باندې اوبدل سوی کټ پرکم باندې چې لمونځ جائزنه دی، پرهغه باندې دمړي په اینبولو سره دجنازې لمونځ درست دی اوکه نه؟ که چیرې (دغه کټ) پلیت وي نو پاکه کپړه ورباندې اچول کافي دي اوکه نه؟

جواب: په رسۍ باندې پراوبدل سوی کټ باندې لمونځ هم جائزدی اوچې جنازه ورباندې اینبوول سوې وي، نومخ ته دهغه په اینبولو سره دجنازې لمونځ صحیح دی، اوکه چیرې پلیت وي نوپاکه کپړه دې ورباندې وغوړوي اومړي دي ورباندې کښې ښوول سي.

په داسې مړي باندې جنازه ونه سوه دچاچې په اسلام کې شک وو، نوددې څه حکم دی؟

سوال: (۲۸۴۱) یوه بنګې ښځه مسلمانه سوه، څه موده وروسته هغه بیا خپل اصلي مذهب ته واوښتله، بیا مسلمانه سوه، علی هذادرې واره هغې داسې وکړل، بیا دمسلمان کیدلو څخه وروسته هم هغې ماسوا دزنا اوشراب خوری څخه څه کار موافق د شریعت

---

[1]. شرح فقه اکبر ص ۹۱. ظفیر

[2]. اختلط موتانا بکفار ولا علامة اعتبر الاکثر فان استووا غسلوا واختلف فی الصلوة علیهم ومحل وقتهم کدفن ذمیة حبلی من مسلم قالوا والاحوط دفنها علی حدة (درمختار) اختلف فی الصلوة علیهم قال فی الحلیة فان کان بالمسلمین علامة فلا اشکال فی اجراء احکام المسلمین علیهم والا فلو المسلمین اکثر صلی علیهم وینوی بالدعاء المسلمین الخ (ردالمحتار باب الاجنائز ج۱ ص ۸۰۵ ، ط. س. ج۲ ص۲۰۰ – ۲۰۱). ظفیر

ونه کی، بلکی دخپل ورور په ناجوړی کی یی یوه بزه په ماتارانی (هندو مذهبی مشر) باندی نذرانه کړه اوسجده یی هم ورته وکړه، دغه ښځه دیوځو ورځو ناجوړتیا څخه وروسته مړه سوه، دمحلی خلګو ماته دجنازی دلمانځه دپاره وویل، نوما انکار وکی، او دجنازی لمونځ می ونه کی، نوپه دی صورة کی څه حکم دی؟

جواب: په حدیث شریف کی حکم دی، صلوا علی کل بر وفاجر الحدیث، یعنی دهریو نیك اودبد (مسلمان دجنازی لمونځ کول په کاردی نوددی وجه ددغه نوی مسلمانی ښځی دپاره ددغه نوی مسلمانی ښځی دجنازی لمونځ کول په کاروو که څه هم هغه فاسقه او فاجره وی، نوکه چیری دهغه دجنازی لمونځ بعضو مسلمانانو اداء کړی وو نوخیر، اوکه نه نوتاسو ګنهګار سول، توبه دي وکاږی. فقط

دجنازی دلمانځه صفونه: **سوال**: (۲۸۴۲) زموږ په ملك کی دامسئله خپره ده چی دجنازی کولو په وخت کی مقتدیان دفاصلی سره ولاړوی. ایادجنازی لمونځ اوپه نورو لمونځونو کی فرق سته؟

جواب: په دی باره کی دجنازی په لمونځ اوپه نورو لمونځونو کی څه فرق نسته، صف متصل کیدل په کاردی، په مینځ کی فاصله پریښوول مکروه دی (۱) . فقط

دغیر مقلد دجنازی په لمانځه کی شرکت درست دی: **سوال**: (۲۸۴۳) که یوسړی عالم فاضل غیرِ مقلد مړسی اوهم غیر مقلد دهغه دجنازی لمونځ ورکوی اوپه دغه غیر مقلد پسی یوحنفی عالم اقتداء وکړی، سره ددی چی ددی څخه مخکی به یی خلګ دهغه سره دمیل اومحبت څخه منع کول. نوپه دغه حنفی باندی به څه مؤاخذه وی اوکه نه؟

جواب: ددغه حنفی عالم دغه فعل چی په غیرمقلد امام پسی یی دغیر مقلد مرده دجنازی لمونځ اداء کی، قابل دمؤاخذی نه دی، په حدیث شریف کی دی: صلوا خلف کل بر وفاجر وصلوا علی کل بر وفاجر الحدیث (۲). حاصل دادی چی حضور ﷺ فرمایلی دی چی په هریو نیك اوبد پسی لمونځ کوی اودهر یونیك اوبد دجنازی لمونځ کوی، نو غیر مقلدین هم کافران خونه دی چی دومره تشدد په دی کی کول کیږی. بیشکه داضروری ده چی دغیر مقلدو دعقیدو دفسادپه وجهی سره حتی الوسع دوی امام جوړول نه دی په کار. لیکن که چیری اتفاقا داسی وسوه چی غیر مقلد امام وی اوپه هغه پسی چالمونځ وکی، خصوصًا دجنازی لمونځ نوپه دی کی پردغه لمونځ کونکی حنفی باندی طعن اوتشنیع بی

(۱). وینبغی ان یامرهم بان یتراصوا ویسدوا الخلل ویسووا مناکبهم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۳۱ ، ط. س. ج۱ ص ۵۲۸). ظفیر

(۲). شرح فقه اکبر ص ۹۱. ظفیر

ځایه ده اوناجائز دی اودهغه تفسیق اوتضلیل ناروا دی. فقط

دجنازې په لمانځه کې دفاتحې ویل: (١) **سوال**: (۲۸۴۴) دجنازې په لمانځه کې دسورۃ فاتحې ویل جائز دی اوکه نه؟ که جائز وی نو دکم تکبیر په وخت کې؟

جواب: دحضرت امام ابوحنیفه رضی الله عنه په نزد باندې دجنازې په لمانځه کې دسورۃ فاتحې ویل درست نه دی، لیکن که چیرې ددعاء په نیت یې ووایي نوبیا درسته ده او ددې محل دتکبیرِ اولې څخه وروسته (٢) دی.

که داختر دلمانځه په وخت کې جنازه راسي نوځه کول په کاردي؟ سوال: (۲۸۴۵) که چیرې دجنازې لمونځ اوداختر لمونځ جمع سي نوداختر دلمانځه څخه وروسته به دجنازې لمونځ کول کیږي اوکه نه خطبه؟

جواب: دجنازې لمونځ دخطبې څخه مخکې کول په کاردي، نوچې دهغه څخه فارغه سي، نوخطبه دي ووايي، ځکه چې دجنازې لمونځ فرض دی، اوداختر خطبه سنت ده، ښکاره ده چې فرض دسنتو څخه مقدم وی. قال الشامی فی تحت قول درالمختار وتقدم صلوٰۃ الجنازۃ علی الخطبة وذاك بفرضیتها وسنیة الخطبة، شامی ج اول، (٣)

په عیدګاه کې لمونځ مکروه نه دی: **سوال**: (۲۸۴۶) په عیدګاه کې دجنازې لمونځ مکروه دی اوکه نه؟

جواب: دفقهې په کتابونو کې تصریح ده چې دجنازې لمونځ دجُمعې په جوماتو کې مکروه دی، یعنی په کم جوماتو کې چې پنځه وخته جُمعه کیږي یاجُمعه اوپنځه وخته لمونځ په جماعت سره کیږي لکه چې په درمختار کې دی: وکرهت تحریما وقیل تنزیها فی مسجد جماعة الخ (٤)، نو ددې قید دفی مسجد جماعة، څخه معلومیږي چې په عیدګاه

---

(١). سورۃ فاتحه په جنازه کې ویل څنګه دی؟ په دې مسئله کې دحنفي مذهب او ددرو ۳ نورو مذهبونو فتویٰ او مفصل دلائل اوبحث، علامه شرنبلالي رحمه الله چې دمشهور فقهي کتاب نور الایضاح مصنف دی، په خپله یوه مستقله رساله کې لیکلي دی، دهغه دارساله نامداره ده په (**النظم المستطاب لحکم القراءۃ فی صلاۃ الجنازۃ بأمّ الکتاب**) سره، دارساله تر نن ورځې پورې دمصر په جامعۂ ازهر کې مخطوطه وه، الحمدلله چې موږته یې نسخه په لاس راغله ، اوددین دخدمت اوعلماؤ دشوق په خاطر مو دفتاوی دار العلوم دهمدې پنځمې حصې سره په پای کې درج کړه، په ښایسته کتابت، تعلیق او تحقیق سره مو مزیّنه کړه، هیله ده چې دمطالعه کوونکو علماء کرامو، طلباء عظامو، محققینو اوباحثینو تنده به پرې ماته سی، اوموږته دزړه له کومې دخیردعا وکړی. حقانی

(٢). وعین الشافعی الفاتحة فی الاولی وعندنا تجوز بنیة الدعاء وتکره بنیة القرآءة لعدم ثبوتها فیها عنه ﷺ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوۃ الجنائز ج١ ص ٨١٧ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۳ - ۲۱۴) . ظفیر

(٣). ردالمحتار الشامی باب العیدین ج١ ص ٧٧٥ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۷. ظفیر

(٤). الدرالمختار باب الجنائز مطلب صلاۃ الجنائزۃ فی المسجد ج١ ص ٨٢٧ ، ط. س. ج۲ ص۲۲۴. ظفیر

کی دي دجنازی جماعت جائزوی لیکن احوط دا معلومیږی چی کله دعیدګاه بانی دا دجنازی دلمانځه دپاره نه ده جوړه کړی، نودجنازی لمونځ په دی کی نه دی کول په کار البته کم جومات چی دجنازی دلمانځه دپاره مخصوص سوی وی نوپه هغه کی (بیا دجنازی لمونځ کول) درست دی. فقط

داویل چی زماجنازه مه کوی کفر نه دی دهغه جنازه به کول کیږی: **سوال**: (۲۸۴۷) یوسړی وفات سو، هغه په خپل ژوند کی دا الفاظ ویلی وه چی زما په جنازه کی دي څوك لمونځ نه کوی کنی په اخرت کی به یی زه دامن ګیریم، په دی خبره بعضوکسانو قسم واخیستی چی موږ به دده جنازه نه کوو، په دغه رکم زیاتره خلګو دده دجنازی څخه انکار وکی، په دی خیال باندی چی دا الفاظ دکفر دی، لیکن احقر دغه دمړی خبره پر جهالت باندی محمول کړه اولمونځ می باندی وکی اوقسم اخستونکی ته می دقسم دکفاری ورکولو وینا وکړه، دادرسته ده اوکه نه؟

جواب: دهغه دجنازی لمونځ کول په کاروو، دهغه دغه قول کفرنه وو لهذا کمو خلګو چی دهغه دجنازی لمونځ وکی دادرست سو، اوکه په قسم اخستونکو کی چا دجنازی لمونځ کړی وی، نوپر هغوی باندی دقسم کفاره واجبیدل تاسی صحیح ویلی دی. فقط

په کم امام پسی چی وقتی لمونځ نه کوی په جنازه کی دهغه امامت: **سوال**: (۲۸۴۸) که چیری دوه څلور کسان په یوه امام پسی لمونځ نه کوی نوپه دغه امام پسی دهغوی دجنازی لمونځ کیږی اوکه نه؟

جواب: په هغه پسی دجنازی لمونځ کیږی، لیکن که چیری ددغه امام دعیوبو اونقصان دشرع په وجه سره یی هغه دامامت څخه لیری کړی وی یعنی په دی وجه سره چی هغه فاسق دی نودهغه امامت په ټولو لمونځونو کی مکروه دی، اودجنازی په لمانځه کی هم مکروه دی. (۱)

که چیری څوک دجنازی لمونځ ورکونکی نه وی نوڅه دی وسی؟ **سوال**: (۲۸۴۹) که چیری په کلی کی څوك مړسی اودجنازی لمونځ ورکونکی څوك نه وی، که څوك سړی تعلیم یافته هم وی لیکن دجنازی لمونځ نه سی ورکولی، نوڅه کول په کاردی؟

جواب: دمړی جنازه ضرور کیدل په کاردی کم ازکم که یوسړی هم دجنازی لمونځ وکی نوفرضیت به اداء سی، کنی ټول به ګنهګار (۲) وی. فقط

دښځی دجنازی لمونځ به دخاوند په حکم سره کیږی اوکه نه دپلار؟ **سوال**: (۲۸۵۰) یوه ښځه

---

(۱). ويكره امامة عبدالخ وفاسق (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص۵۲۳، ط. س. ج ۱ ص ۵۵۱). ظ

(۲). والصلاة عليه الخ فرض كفاية بالاجماع (ايضا ج۱ ص ۸۱۱، ط. س. ج۲ ص ۲۰۷). ظفير

وفات سوه دهغې خاوند اوپلار دواړه موجود دی نودجنازی دلمانځه دپاره دچا اجازه معتبره ده؟
جواب: په دی صورة کی پلار زیات حقداره دی چی پخپله جنازه وکړی یابل چاته اجازه ورکړی په درمختار کی دی، ثم الولی بترتیب عصوبة الانکاح الخ وله الخ الاذن لغیره لانه حقه فیملك ابطاله الخ درمختار، واقره الشامی (۱).
دمنکراتو په وجه دي جنازه نه پریږدي: **سوال**: (۲۸۵۱) که دچا دپیر اودمرشد دجنازی په مخ کی هندوان خلگ باجه ږغوی اودکور دخلگو دمنع کولو باوجود هغوی نه منع کیږی، نوپه داسی صورة کی عامو مسلمانانو لره اوعالمانو لره په دغه جنازه کی شرکت کول پکاردی اوکه نه؟
جواب: په شامی کی منقول دی چی دمنکراتو په وجه دي په جنازی پسی تلل نه پریږدی بلکی دمنکراتو څخه دي منع وسی: ولا تترك لما یحصل عندها من منکرات ومفاسد کاختلاط الرجال بالنساء وغیر ذلك لان القربات لا تترك لمثل ذلك بل علی الانسان فعلها وانکار البدع بل وازالتها ان امکن اه قلت : ویؤیّد ذلك ما مرّ من عدم ترك اتباع الجنازة وان کان معها نساء نائحات. (۲) فقط
په شک سره لمونځ نه ماتیږي: **سوال**: (۲۸۵۲) زید دجنازی لمونځ ورکی، بیا چی یو څو قدمه ولاړی، نومعلومه سوه چی دذکر پرسر یی دمتیازو څاڅکی راغی، نو ددفن څخه وروسته هغه یوازی پرقبر باندی لمونځ وکی، نودغه لمونځ صحیح سو اوکه نه؟
جواب: مخکنی لمونځ سوی وو په داسی شبهی سره لمونځ نه فاسدیږی (۳) اودوباره پر قبر باندی دجنازی لمونځ کول نه وو په کار. فقط
په شپه کی دجنازی لمونځ: **سوال**: (۲۸۵۳) په شپه کی دجنازی لمونځ کول په کاردی او که نه؟ **جواب**: په شپه کی دجنازی لمونځ درست دی (۴)، فقط
دمړي پرهډوکو باندی غسل اولمونځ نسته: **سوال**: (۲۸۵۴) یوسړی په ځنګل کی وفات سو پنځه ورځی وروسته یی پته ولګیده لیکن دمړی ټول بدن پیدا نسوصرف دسرڅه هډوکی

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۲ وص ۸۲۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۰. ظ
(۲). ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی زیارة القبور ج۱ ص ۸۴۳ ، ط. س. ج۲ ص۲۴۲. ظفیر
(۳). وشك بالحدث اوبالعکس اخذ بالیقین (الدر المختار علی هامش ردالمحتار نواقض الوضو ج۱ ص ۱۴۰ ، ط. س. ج۱ ص ۱۵۰). ظفیر
(۴). وکره تحریما صلوة ولو علی جنازة الخ مع شروق واستواء وغروب (درمختار) قوله علی جنازة ای اذا حضرت فی ذلك الوقت (ردالمحتار کتاب الصلوة ج۱ ص ..... ، ط. س. ج۱ ص ۳۷۰). ظفیر

يې پيدا سوه. اوهغه هم دسركار په قبضه كې دي، ددغه مړده دتجهيز اودتكفين څه صورة دی؟

جواب: په دې صورة كې ددغه هډوكو دغسل اودكفن هيڅ صورة نسته، دغه هډوكي چې كله دسركار څخه دركول سوه نوهمدغسې دې په يوځای كې ښخ سي. په درمختار كې دي: وجد رأس ادمی اواحد شقيه لا يغسل ولا يصلی عليه بل يدفن الا ان يوجد اكثر من نصفه ولو بلا رأس الخ (١). فقط

پركټ باندې په ايښولو سره دجنازې لمونځ: **سوال**: (٢٨٥٥) دجنازې لمونځ پركټ باندی جائزدی اوكه نه؟ اوپه فتاویٰ دمولانا عبدالحیؒ كې چې كم مذكور دی چې دحضور ﷺ دجنازې لمونځ په سرير باندې سوی وو، نوآيا دهغه سرير څخه همدا كټ مراد دی اوكه تخته مراده ده، اودحضرت رسول الله ﷺ په جنازه كې څلور ياران كبار ټول موجود وه كه نه؟ اودجنازې لمونځ چا وركړی وو. دكټ خبره مو ځكه وليكله چې علماء كرام په دې ځای كې فرمايې چې دجنازې دلمانځه دپاره مړی پر مځكه باندې ايښوول شرط دی كم چې په شامی وغيره دفقهې په كتابونو كې مذكور دی يا سند تحرير وفرماياست.

جواب: جائز دی، كما هو معمول فی السلف والخلف (٢). فقط

په جومات كې جنازه په داسې شان سره چې مړی دباندې وي: **سوال**: (٢٨٥٦) ديو جومات لمونځ گذاره غواړي چې دمحراب پرځای يوه كوچنۍ دروازه جوړه سی، اوپر هغه دروازې ولگول سی اومړی دجومات دمحراب څخه دباندې كښې ښوول سی اودروازه خلاصه سی، په دې طريقې سره په جومات كې دجنازې لمونځ كول جائزدی اوكه نه؟

جواب: صحيح اومختاره (خبره) داده چې په دې سره كراهت نه مرتفع كيږي، كما فی الدر المختار، والمختار الكراهة مطلقا الخ ای سواء كان الميت فيه اوخارجه هوظاهر الرواية الخ شامی، وهو الموافق لاطلاق حديث ابی داود من صلی علی ميت فی المسجد فلا صلاة له (٣). فقط

---

(١). ايضا ج١ ص ٨٠٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٧٠. ظفير

(٢). ووضعه وكونه هو اواكثره امام المصلی الخ فلا تصح علی غائب ومحمول علی نحو دابة وموضوع خلفه (در مختار) علی نحو دابة ای المحمول علی ايدی الناس فلا تجوز الا من عذر ؒ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٨) ددی څخه معلومه سوه چې كه چيرې مړی پركټ باندی كښې ښوول سی او دجنازې لمونځ وسی نوجائز دی ځكه چې دا ددابه اوانسان غوندی ساه لرونكی شيان نه دی، اوپه كټ باندی كيدل حكماً پرمځكه باندی كيدل دی، پرآنحضرت ﷺ باندې چې دجنازې لمونځ كله وسو په دې وخت كې دده ﷺ جسم مبارك پركټ باندی ؤ، ددې څخه څه مراد دی، صراحةً هيڅ معلوم نه سوه، دده ﷺ دجنازې دلمانځه امامت هيچا نه دی، انفراداً (جلا جلا) خلكو لمونځ وكی، حضرت صديق اكبر ؓ دا طريقه خلگوته ښوولې وه. ظفير

(٣). وگوری: ردالمحتار باب صلاة الجنائز. مطلب فی كراهة صلاة الجنائز فی المسجد ج١ ص ٨٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٤. ظ

دجنازې دلمانځه څخه وروسته دعاء مشروع نه ده: **سوال**: (۲۸۵۷) عن ابی هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اذا صليتم الميت فاخلصوا له الدعاء (ابوداود وابن ماجه) عن واثلة بن الاسقع قال صلى بنا رسول الله ﷺ على رجل من المسلمين فسمعته يقول اللّٰهم ان فلان بن فلان فی ذمتك وحبل جوارك فقه من فتنة القبر وعذاب النار وانت اهل الوفاء والحق، اللّٰهم اغفر له وارحمه انك انت الغفور الرحيم، نو ایا دجنازې څخه وروسته دعاء مشروع ده او که نه؟

جواب: دجنازې دلمانځه څخه وروسته دعاء مشروعه نه (۱) ده. او په دی احاديثو کی ددعاء څخه مراد دجنازې دلمانځه دعاء ده، يعنی داول حديث مطلب دادی چی کله تاسی دجنازې لمونځ کوی نو په هغه کی دجنازې دعاء په اخلاص سره (طلب کوی) همدغه رکم په دوهم حديث شريف کی په صفا سره داموجود دی چی دجنازې دلمانځه دعاء مراده ده. فقط

دقبرستان په جومات کی دجنازې لمونځ: **سوال**: (۲۸۵۸) زموږ په قبرستان کی يوجومات دی، چی دهغه درې محرابونه اودوی مناری دی کرسی يې څه اندازه لوړه ده، صحن يې پوخ دی، دختلو دپاره يې دمشرق طرف ته ځينی دی، ليکن دچت اوچترې دنيستوالی په وجه سره طرف ثانی ته منا يادهليز وايی، دکله څخه چی دغه جومات جوړ سوی دی، برابر اذان اوجماعت په هغه کی کيږی، اودمسئلی څخه دناخبری په وجه موږ په هغه کی تر سنه ۱۳۳۲ھ پورې دجنازې لمونځ هم کوی، نوایاپه هغه کی دجنازې لمونځ جائزدی او که نه؟

جواب: دذکر سوی نزاع په باره کی فيصله کوونکی خبره داده چی که چيرې ذکر سوی منا اودهليز په کمه کی چی محرابونه وغيره دی دپنځه وخته لمونځونوپه جماعت سره داداء کولو په غرض جوړه سوی وی اودهمدی دپاره وقف سوی وی، نوهغه دفقهاؤ داصطلاح مطابق مسجد جماعت دی، اوپه مسجد جماعت کی عند الحنفيه دجنازې لمونځ مکروه دی، کما فی الدر المختار: وكرهت تحريما وقيل تنزيهاً في مسجد جماعة هو ای الميت فيه وحده أو مع القوم واختلف فی الخارجة عن المسجد وحده اومع بعض القوم والمختار الكراهة مطلقاً خلاصه، بناءًا على أن المسجد انما بنى للمكتوبة وتوابعها الخ وهو الموافق لاطلاق حديث أبی داؤد من صلى على ميت فی المسجد فلا صلاة له الخ (۲) وفی الشامی مزيد تفصيل لهذا فليراجع.

او که چيرې دغه برنډه اودهليز دجنازې دلمانځه په غرض جوړ سوی وی نوبيا په هغه کی

---

(۱). ولا يدعوا للميت بعدصلوٰة الجنازة لانه يشبه الزيادة فی صلاة الجنازة (مرقاة المفاتيح شرح مشكوٰة المصابيح ج۲ ص۳۲۹).

(۲). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۴ . ظفير

دجنازی لمونځ بغیر دکراهت څخه درست دی، کماهو مذکور فی کتب الفقه واما المتخذ لصلوة جنازة اوعید فهو مسجد فی جواز الاقتداء لافی حق غیره الخ ([1])، نو دلفظ د: المتخذ لصلوة الجنازة، څخه دجنازی دلمانځه جواز په دی کی واضح کیږی، باقی دا خبره چی دغه برنډه دپنځه وخته لمانځه دپاره جوړه سویده اوکه دجنازی دلمانځه دپاره جوړه سویده، دبانی او دواقف دنیت څخه اودهغه دفرمان څخه اودهغه څخه وروسته دزمانی دتعامل څخه معلومیدلی سی، داخبره په پوره توګه هغه خلګ معلومولی سی چی څوك ددغه ځای اوسیدونکی دی، دلیری ځای خلګ داخبره متعین کولی نه سی، البته دومره قدر ضرور ویل کیدی سی، په صورة کی داشتباه اوداحتمال دامرینو احوط داده، چی دجنازی لمونځ دی په دی کی ونه سی، ځکه چی په کولو کی احتمال دکراهت مذکوره اووعید مذکور فی الحدیث دی اوپه نه کولوکی څه حرج اواندیښنه نسته، بلکه په دی کی دشبهاتو څخه دځان ساتل دی کم چی په احادیثو مبارکهؤ کی مامور به دی.

هندوان او مسلمانان په یو کور کی په سوزیدلو سره مړه سول او هیڅ علامه یی باقی پاته نه سوه نو دجنازی به یی صورة څه وی؟ سوال: (۲۸۵۹) دوه هندوان اویومسلمان په یوکور کی اوسیدل اتفاقا اور ولګیدی اوټول یې وسوزل، اومړه سول، هیڅ څه امتیازی نښه یی پاته نه سوه نوددغه مسلمان جنازه به څنګه به څنګه کول کیږی؟

جواب: دواړه دي مخامخ کښېږدی اودمسلمان په نیت سره دي دهغه دجنازی لمونځ وکی.([2])

دجنازی دلمانځه څخه وروسته او ددفن څخه مخکی دعاء جائزده اوکه نه؟ سوال: (۲۸۶۰) پرمړی باندی دجنازی دلمانځه څخه وروسته اوددفن کولو څخه مخکی دعاء کول جائز دی اوکه بدعت، اود الفی (ګرته) په باره کی هم دحدیثو مبارکو دکتابونو یا دفقهی څخه څه ثبوت پیدا کیږی اوکه نه؟

جواب: دفقهی په کتابونو کی لیکلی دی چی دجنازی لمونځ دمړی دپاره دعاده، لهذا بله یوه دعاء دجنازی دلمانځه څخه وروسته مشروع ده نه ده، په شامی کی دی: فقد صرحوا عن اخرهم بان صلٰوة الجنازة هی الدعاء للمیت ([3]) الخ، وفی خلاصة الفتاوی لا یقوم بالدعاء بعد

([1]). ایضا باب مایفسد الصلوة مطلب فی احکام المسجد ج۱ ص ۶۱۵، ط. س. ج۱ ص ۶۵۷. ظفیر

([2]). لولم یدر مسلم ام کافر ولا علامة فان فی دارنا غسل وصلی علیه والا لا (درمختار) ان العلامة مقدمة وعند فقدها یعتبر المکان فی الصحیح لانه یحصل به غلبة الظن کما فی النهر عن البدائع وفیها ان علامة المسلمین اربعة الختان والخضاب ولبس السواد وحلق العانة اه قلت فی زماننا لبس السواد لم یبق علامة المسلمین (رد المحتار باب صلاة الجنائز قبیل مطلب فی الکفن ج۱ ص ۸۰۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۰ - ۲۰۱) . ظفیر

([3]). ردالمحتار باب صلاة الجنازة ج۱ ص۸۱۴ تحت قول ورکنه التکبیرات الخ ط. س. ج۲ ص ۲۱۰. ظفیر

صلٰوة الجنازة (١)، وفی البزازية لايقوم بالدعاء بعد صلاة الجنازة، (٢)وفی شرح المشكوٰة ولايدعو للميت بعد صلوٰة الجنازة لانه يشبه الزيادة فی صلٰوة الجنازة (٣). **نومعلومه سوه چی دمړی دجنازی څخه وروسته دي بله څه دعاء نه كوی ځكه چی صلوٰة جنازة پخپله دعاء للميت ده. اوالفی يعنی ګرته كم ته چی قميص وايی په كفن كی سنت دی، په درمختار كی دی، ويسن فی الكفن له ازار وقميص ولفافة الخ (٤)، اوپه متفق عليه حديث شريف كی دی: اتی رسول الله ﷺ عبدالله بن ابی بعد ما ادخل حضرته فامر به فاخرج فوضعه علی ركبتيه فنفث فيه من ريقه ولبسه قميصه قال وكان كسا عباساً قميصاً، رواه البخاری ومسلم عن جابر (٥)، اوامام بن همام" دامام نخعی" په روايت سره حديث شريف روايت كړی دی: ان رسول الله ﷺ كفن فی حلة يمانية وقميص الحديث (٦). فقط**

غائبانه دجنازی لمونځ جائزدی: سوال: (٢٨٢١) دغائبانه دجنازی دلمانځه دپاره څه حكم دی؟ جواب: دحنفيانو په نزد دغائبانه جنازی لمونځ صحيح نه دی، په درمختار كی دی فلا تصح علی غائب الخ (٧). فقط

دډاكو اودباغی وغيره دجنازی لمونځ ولی جائزنه دی: سوال: (٢٨٢٢) دلاری شكوونكو او دباغی وغيره دجنازی دلمانځه ممانعت ولی دی؟

جواب: په دی سره غرض اوتنبيه نورو ته وركول دی په شامی كی دی، وانما لم يغسلوا (٨)ولم يصل عليهم اهانة لهم وزجراً لغيرهم عن فعلهم الخ (٩).

دكبيری دمرتكب جنازه دي وسی خو دكافر نه: سوال: (٢٨٢٣) مرتكب دكبيری اودكفر كه چيری دتوبی څخه مخكی مړسی نو دهغه دجنازی لمونځ كول درست دی اوكه نه؟ او دتوبی دپاره دا ضروری دی اوكه نه چی ديو پير په لاس باندی توبه وكاړی؟

---

(١). خلاصة الفتاوی، الفصل الخامس فی الجنائز ج١ ص ٢٢٥. ظفير
(٢). الفتاوی البزازية ص ....
(٣). مرقاة شرح مشكوٰة باب المشی بالجنازة والصلاة عليها فصل ثالث ج١ ص ٣٢٩. ظفير
(٤). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٢. ظفير
(٥). وګوری مرقاة باب غسل الميت وتكفينه فصل اول ج ٢ ص ٣٤٥. ظفير
(٦). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨١٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٩. ظفير
(٧). ردالمحتار باب الجنائز ج١ ص ٨١٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٩. ظفير
(٨). وهی فرض علی كل مسلم مات خلا اربعة بغاة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨١٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٠). ظفير
(٩). دزانی دجنازی لمونځ خوبه ضرور كيږی مګر دډاكو دجنازي لمونځ به نه كيږی: وهی فرض علی مسلم مات خلا اربعة بغاة وقطاع الطريق الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج١ ص ٨١٤ – ٨١٥ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٠). ظ

جواب: دکبیری دمرتکب جنازه به کول کیږی اودکافر دجنازی لمونځ به نه کول کیږی، اوپرچا باندی چی حکم دکفر ونه لګیږی په سبب دروایت دعدم کفر نو دهغه دجنازی لمونځ به هم کول کیږی، کمامر صلوا علی کل بر وفاجر، اودچا څخه چی یو کلمه دکفر صادره سوه اوبیایی دهغه څخه توبه وکښله اوداسلام تجدید یی وکی که څه هم دیو پیر په لاس باندی نه وی نوهغه مسلمان سو، اودهغه دجنازی لمونځ به کول کیږی (۱). فقط

که ډاکو دډاکی په حالت کی ووژل سی نو دجنازی لمونځ به باندی کول کیږی اوکه نه؟

سوال: (۲۸۲۴) که چیری مسلمان ډاکو دډاکی په حالت کی ووژل سی، نوایا دهغه ایمان به قائم وی؟ اودهغه جنازه به جائز وی؟

سوال: (۲۸۲۵ \ ۲) مسلمان که چیری دزنا په حالت کی مړسی نوآیا دده ایمان به باقی پاته وی، اودده دجنازی لمونځ به جائز وی که نه؟

جواب: ۱، ۲: دغه سړی فاسق دی، کافر نه دی دهغه دجنازی لمونځ به کول کیږی. لقوله ﷺ صلوا علی کل بر وفاجر. الحدیث، فقط

دمسلمان مړی جنازه به کله نسی کیدلی: **سوال**: (۲۸۲۶) دمسلمان مړی جنازه لمونځ نه کول په کمو وجوهو سره په کاردی؟

جواب: دباغیانو او دلاری شکوونکو وغیرهما دپاره داحکم دی چی دهغوی دجنازی لمونځ دي ونه سی، په درمختار کی دی چی هغوی څلور (قسمه انسانان) دی باغیان، لاره شکونکی، مکابر اهل عصبة، قاتل داحد الابوین، عبارت یی دادی: وهی فرض علی مسلم مات خلا اربعة بغاة وقطاع طریق الخ ومکابر فی مصر لیلاً بسلاح وخناق الخ وفیه أیضاً من قتل نفسه ولو عمداً یغسل ویصلی علیه به یفتی الخ لا یصلی علی قاتل احد ابویه. درمختار (۲).

که چیری ولی غیر عالم امام جوړکړی اودجنازی لمونځ وکړی نوایا اعاده به یی کوی: **سوال**: (۲۸۲۷) که چیری ولی یو څوك غیر عالم امام جوړ کړی اولمونځ وکی نو دجنازی دلمانځه اعاده به کیدی سی اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق: دولی دلمانځه کولو څخه وروسته راجح اواحوط همداده چی اعاده دي ونه سی. کما حققه فی الشامی وان صلی الولی لم یجز لاحد ان یصلی بعده اه ونحوه فی الکنز وغیره، فقوله لم یجز لاحد یشمل السلطان ثم رأیت فی غایة البیان قال ما نصه هذا علی سبیل العموم حتی لا تجوز الاعادة لا لسلطان ولا لغیره (۳)، اوچونکی عند الحنفیة دجنازی

---

(۱). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۴ – ۸۱۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰. ظفیر

(۲). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۴ – ۸۱۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰. ظفیر

دلمانځه تکرار مشروع نه دی، په دی وجه هم احوط داختلاف په صورة کی دعدم اعادی روایت دی ([1]). فقط

دمخنث دجنازی لمونځ: **سوال**: (۲۸۶۸) دمخنث مړی دجنازی لمونځ کول درست دی اوکه نه؟ **جواب**: دمخنث مړی دجنازی لمونځ کول فرض دی ([2]). فقط

که صرف رافضی دجنازی لمونځ وکی نوفرض به ساقط سی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۸۶۹) دجنازی لمونځ صرف درافضی په کولو سره به داهل سنت دذمی څخه فرض کفایه اداء سی اوکه نه؟ اواهل سنت لره په رافضی پسی اقتداء جائزده اوکه نه؟ او دجنازی په لمانځه کی دصبی اهل سنت څه حکم دی؟

جواب: رافضی که چیری غالی وی چی دهغه رفض دکفر حدته رسیدلی وی، نودهغه دجنازی دلمانځه په کولو سره به فرض کفایه اداء نه سی اودهغه اقتداء به هم درسته نه وی ([3])، اودصبی اقتداء هم په هیڅ یوه لمانځه کی درسته نه ده ([4]). فقط

که داختر دلمانځه څخه مخکی جنازه راسی نومخکی دي داختر لمونځ وکړی: **سوال**: (۲۸۷۰) داختر دلمانځه څخه مخکی که چیری جنازی راسی نودجنازی لمونځ دي اول ادا سی اوکه نه داختر؟

جواب: په درمختار کی دی چی داخترونو لمونځ دي دجنازی دلمانځه څخه مخکی اداء کړی بیا دي دجنازی لمونځ وکړی، اوبیا دي داخترونو خطبه وویل سی، وتقدم صلوتها علی صلوة الجنازة الخ، وتقدم صلوة الجنازه علی الخطبة الخ. ([5]) فقط

مړی ته دغسل ورکولو څخه وروسته پخپله دغسل کول ضروری نه دی: **سوال**: (۲۸۷۱) یوه سړی مړی ته بی اودسه غسل ورکوی، اودغسل ورکولو څخه وروسته بی لمبولو دجنازی لمانځه ته مخکی کیږی نو ایاپه هغه پسی دجنازی لمونځ او دپنځه وخته لمونځ

([3]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۳. ظفیر

([1]). ولذا قلنا لیس لمن صلی علیه ان یعید مع الولی لان تکرارها غیر مشروع (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۲ ، ط. س. ج ۲ ص ۲۲۳). ظفیر

([2]). وهی فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰). ظفیر

([3]). وان انکر بعض ماعلم من الدین ضرورة کفر بها الخ فلا یصح الاقتداء به اصلا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۴ ، ط. س. ج۲ ص ۵۲۱). ظفیر

([4]). ولا یصح اقتداء رجل بامرة وخنثی وصبی مطلقا ولو فی جنازة (درمختار) الصبی اذا ام صلاة الجنازة ینبغی ان لا یجوز وهو الظاهر (ردالمحتار باب الامامة مطلب الواجب کفایة هل یسقط بفعل الصبی وحده ج۱ ص ۵۳۹ ، ط. س. ج۱ ص ۵۷۲ – ۵۷۷). ظفیر

([5]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۵، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰. ظفیر

کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دمړی دلمبولو ځخه وروسته پخپله دغسل کول ضروری نه دی، اوکه چیری دغه سړی داودس کولو ځخه وروسته دجنازی لمونځ ورکړی یاپه پنځه وخته فرائضو کی امام سی نوپه هغه پسی لمونځ درست دی. ([1]) فقط

دجنازی په لمانځه کی ده (الدعاء للمیت) ویل ضروری نه دی: سوال: (۲۸۷۲) دجنازی په لمانځه کی د: (الدعاء للمیت) ویل سنت دی اوکه نه ضروری؟

جواب: د: (الدعاء لهذا المیت) ویلو ضرورت نسته، صرف دجنازی دلمانځه نیت کول کافی دی ([2]). فقط

که چیری مړی بی جنازی دفن سی، ترڅو ورځو پوری باندی دلمانځه اجازه ده: سوال: (۲۸۷۳) که چیری مړی بغیر دجنازی ځخه پټ سی، نوتر څو ورځو پوری وربانذی دجنازی کول جائز دی؟ تر دری ورځو پوری یا زیات؟

جواب: صحیح داده چی ددری ورځو (قید) نسته، بلکی ترکمه وخته پوری چی دمړی دچاودلو او درژیدلو خیال نه وی ترهغه وخته پوری پرقبر باندی لمونځ کولی سی لکه ځنګه چی په درمختار کی دی: وان دفن بغیر صلوٰة الخ صلی علی قبره الخ ما لم یغلب علی الظن تفسخه الخ من غیر تقدیر الخ هو الاصح ([3])، فقط

دیوه مړی جنازه څوواره کول ځنګه دی؟ سوال: (۲۸۷۴) دیومړی دجنازی لمونځ دوه دری واره کول ځنګه دی؟

جواب: که چیری دجنازی لمونځ هغه سړی ورکړی وی دچاچی حق دی، نوبیا بل کم سړی دوباره لمونځ نسی ورکولی. کما فی الدر المختار وان صلی من له حق التقدم (الی ان قال) لا یعید الخ ج۱ ص ۸۲۲، شامی.

سلام په تړلو لاسونو وګرځوی اوکه نه په خلاصو لاسونو؟سوال:(۲۸۷۵)زیدوایی چی دجنازی

([1]). ویندب الغسل من غسل المیت (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۲). ظفیر

([2]). ومصلی الجنازة ینوی الصلاة لله تعالٰی وینوی ایضا الدعاء للمیت لانه الواجب علیه فیقول اصلی لله داعیا للمیت (درمختار) ووجهه ما ذهب إلیه المحقق ابن الهمام حیث قالوا: المفهوم من کلامهم أن أرکانها الدعاء والقیام والتکبیر، لقولهم: إن حقیقتها هي الدعاء وهو المقصود منها ا هـ. وإن قلنا: إنه لیس برکن فیها علی ما اختاره في البحر وغیره ؒ فالضمیر في قوله: لانه الواجب یعود علی الدعاء ؒ وأما علی القول بالسنیة فلان المراد بالدعاء ماهیة الصلاة لا نفس الدعاء الموجود فیها، لما علمت من أن حقیقتها الدعاء ؒ وإن لم یتلفظ بالدعاء قوله: (فیقول الخ) بیان للنیة الکاملة اهـ قلت: وفي جنائز الفتاوی الهندیة عن المضمرات أن الامام والقوم ینوون ویقولون: نویت أداء هذه الفریضة عبادة لله تعالی ؒ (ردالمحتار باب شروط الصلٰوة ، مطلب فی النیة ج۱ ص ۳۹۳ ، ط. س. ج۱ ص ۴۲۳). ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۲ – ۸۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۳. ظفیر

په لمانځه کی دځلورم تکبير ځخه وروسته دسلام ګرځولو ځخه مخکی لاسونه پريښوول په کاردی، اوعمر په دی باره کی دزيد سخت مخالف دی اووايي چی په دی مقام باندی ارسال درست نه دی، نوپه صورة مسئوله کی دچا قول صحيح دی؟

جواب: دزيد قول دفقهي قواعدو موافق دی، مولانا عبدالحی لکهنوی مرحومؒ په سعايه جلد ثانی باب صفة الصلوة کی بالتصريح بيان کړی دی: ومن ههنا يخرج الجواب عما سئلت فی سنة ست وثمانين ايضاً من انه هل يضع مصلی الجنازة بعد التکبير الاخير من تکبيراته ثم يسلم ام يرسل ثم يسلم وهو انه ليس بعد التکبير الاخير ذکر مسنون فيسن فيه الارسال. انتهٰی. سعايه مطبوعه مصطفائی ص ١٥٩. والله اعلم بالصواب. کتبه ابوالقاسم محمد عبدالسلام مدرس مدرسه انجمن هدايت الاسلام ماليګاؤن. جواب دفکر کولو قابل دی، والله اعلم کتبه ابو الامجد محمد عبد العليم عفی عنه. اول جواب په قواعدو سره درست دی. جزئيه می نه ده ليدلی. والله اعلم اشرف علی عفی عنه تهانوی

اقول به ونستعين. دعمر قول صحيح دی اودفقهاؤ دتصريح موافق دی، حيث قال فی الدر المختار يضع حالة الثناء وفی القنوت وتکبيرات الجنازة، نو دتکبيراتو لفظ ځلورو واړه تکبيراتو ته عام (اوشامل) دی اوځلورم تکبير ددی ځخه هيڅا مستثنٰی نه دی فرمايلی، اودوضع يد دقاعدی هم موافق دی، اودامت دعمل موافق دی، واضحه دي وی چی دجنازی دهرتکبير ځخه وروسته ذکر مسنون دی داول (تکبير) ځخه وروسته ثنا او ددوهم ځخه وروسته درود شريف اوددريم ځخه وروسته دعاء اودځلورم ځخه وروسته دسلام ګرځول دی، په دی کی هريوذکر مسنون دی. په درمختار کی دی، وهو ای الوضع سنة قيام (الی ان قال) فيه ذکرمسنون، قال فی الشامی قوله فيه ذکر مسنون ای مشروع فرضا کان اوواجبا اوسنة. شامی ص ٤٥٥ باب صفة الصلوة ج١، اوپه در مختار باب الجنائز کی هم دی: ويسلم بلا دعاء بعد الرابعة قال الشامی قوله بلا دعاء هو ظاهر المذهب وقيل يقول اللهم ربنا اتنا فی الدنيا حسنة الخ، الحاصل داچی زيد چی کم دځلورم تکبير ځخه وروسته دارسال قائل دی داقول رواية او درايةً صحيح نه دی، او دعمر قول ځوك چی دوضع قائل دی صحيح دی، دځلورم تکبير ځخه وروسته دذکر په مشروع والی کی کلام نسته، که خلاف دی نو ددعاء په مشروعوالی کی دی، اوذکر عام دی کم چی سلام ته هم شامل دی، اودفقهاؤ عمومًا دجنازی په تکبيراتوکی وضع مسنون فرمايل کافی دليل دی، بغير دتصريح دخلاف ځخه خلاف کول صحيح نه معلوميږی. والله تعالی اعلم. کتبه عزيزالرحمٰن عفی عنه

دجنازی لمونځ فرض کفايي دی اوکه فرض عين؟ سوال: (٢٨٧٢) دجنازی په لمانځه کی به

نیت دفرض کفایي کوی اوکه نه دفرض عین؟ اوپه کم وخت کی چی مړی حاضر سی هغه وخت دجنازی لمونځ فرض کفایي دی اوکه نه فرض عین سی؟

جواب: کم وخت چی جنازه حاضره سی هغه وخت هم دهغه لمونځ فرض کفایي وی. فقط والصلاة علیه صفتها فرض کفایة بالاجماع آهـ. درمختار)

دانسان په ژوند کی چی کم اندام دهغه څخه جلا سی دهغه څه حکم دی؟ سوال: (٢٨٧٧) که چیری دانسان دبدن څخه یواندام جلاسی اوهغه انسان ژوندی وی نوپه دغه اندام باندی هم دجنازی لمونځ کیدل په کاردی اوکه نه؟ اوکه چیری بدن جلا سی چی سر جلا وی اوتنه جلاوی اوپه دغه حصو کی دیوی پته لګیږی اودبلی دا نه لګیږی یعنی داسی چی تنه سته نوسر نسته یاچی سرسته نوتنه نسته. نوپه داسی حالت کی دجنازی دلمانځه څه حکم دی؟

جواب: کم اندام چی دژوندی انسان څخه جلاسی په هغه باندی دجنازی لمونځ نسته، اوکه یوازی سر پیدا سی نوهمورباندی دجنازی لمونځ نه سی کولی، که چیری دسر څخه ماسوا باقی بدن موجود وی، نوپر جوسه دي جنازه وسی، غرض داچی قاعده داده چی که دنیم څخه زیات پیدا سی نودجنازی لمونځ باندی سته کنی نه سته. کذافی الدر المختار: وجد رأس ادمی اواحد شقیه لا یغسل ولایصلی علیه الا ان یوجد اکثره من نصفه ولوبالرأس. درمختار ج١ ص ٨٠٤). والله تعالٰی اعلم، کتبه عزیز الرحمٰن عفٰی عنه. مفتی مدرسه عربیه دیوبند، بروز سه شنبه ٨ \ ذی الحجة ١٣٣٠هـ

خاوندلره دښځی په جنازه کی شریکیدل جائز دی: سوال: (٢٨٧٨) دخاوند دپاره دخپلی وفات سوی ښځی جنازه کول پکاردی اوکه نه؟ جائزدی اوکه نه؟

جواب: خاوند لره دخپلی وفات سوی ښځی دجنازی لمونځ کول درست دی ضروری یی کول په کاردی. فقط والله اعلم، لقوله ﷺ لعائشه رضی الله عنها ام المومنین لومت قبلی فغسلتكِ كفنتكِ وصلیت علیكِ الحدیث. مشکوٰة ص ٥٤٥ .

دمړ پیدا سوی ماشوم کفن اودفن: سوال: (٢٨٧٩) که چیری مړ ماشوم پیداسی نوکفن اودفن یی وسی اونومورباندی کښېږدی ښوول سی اوکه نه؟

جواب: که مړ ماشوم پیداسی نونوم دي ورته کښېږدی ښوول سی اوغسل دی ورکول سی. ولا یستهل غسل وسمی عند الثانی وهو الاصح (1) درمختار. فقط

دبالغ سړی او دښځی په دعاء کی هیڅ څه فرق نسته: سوال: (٢٨٨٠) د بالغانو دجنازی په

---

(1). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجنائز ج١ ص ......، ط. س. ج٢ ص٢٢٨. ظفیر

لمانځه کی دسړی اودښځی فرق ضروری دی اوکه نه؟

جواب: دبالغانو دجنازی په لمانځه کی تمیز دسړی اودښځی ضروری نه دی ځکه چی دښځی اودسړی دعاء یوه (۱) ده.

ایا دجنازی لمونځ پرتولو حاضرینو باندی ضروری دی: **سوال**: (۲۸۸۱) زید وایی چی څومره سړی دجنازی سره دی هغه ټول به جنازه کوی برابره خبره که اودس یی وی اوکه نه وی؟ اوجامی یی پاکی وی اوکه نه وی. اودجنازی لمونځ فرض کفایه دی؟

جواب: داصحیح ده چی دجنازی لمونځ ټولو حاضرینو لره کول پکاردی ځکه چی دالمونځ هم فرض دی، یعنی فرض کفایه، چی دبعضو په کولوسره دباقی خلګو څخه ساقط کیږی لیکن فرض پرټولو باندی دی. نودجنازی لمونځ ټولو حاضرینوته کول په کاردی اوپاك والی دجامی اودبدن شرط دی نوپه ناپاکه جامی سره اوبی اودسه دي نه کوی (۲). فقط

که په هیره سره امام بی اودسه دجنازی لمونځ ورکی نوڅه دی وسی؟ **سوال**: (۲۸۸۲) امام دجُمعې لمونځ سهواً بی اودسه ورکی دجنازی دتللو څخه وروسته امام ته معلومه سوه چی اودس می نه وو، نوپه داسی حالت کی څه حکم دی؟

جواب: په دی صورة کی دجنازی لمونځ ونه سو په درمختار کی دی: فلو ام بلا طهارة والقوم بها اعیدت (۳)، لهذا دجنازی دلمانځه اعاده په کارده، اوپه دی حالت کی ددفن کولو څخه وروسته پرقبر باندی ترهغه وخته پوری اعاده کول لازم دی چی دمړی دخوسا کیدلو اودچاودلو غالب ګمان نه وی، اوبعضو فقهاؤ ددری ورځو تحدید کړی دی اوکه چیری داموده تیره سوی وی، نواوس هیڅ نه سی کیدلی (۴). فقط

ددریم تکبیر څخه وروسته ددعاء پرځای فاتحه ویل څنګه دی: **سوال**: (۲۸۸۳) دنابالغه دجنازی په لمانځه کی ددریم تکبیر څخه وروسته ددعاء په ځای فاتحه ویل صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دنابالغه دجنازی دلمانځه طریقه داده چی داول تکبیر څخه وروسته دي سبحانك اللهم الخ ووایی، اوددوهم تکبیر څخه وروسته دي درود شریف، اوددریم تکبیر څخه

(۱). ثم یکبر اٰخر ویدعوا للمیت وجمیع المسلمین الخ وعن رسول الله ﷺ انه یقول اللهم اغفر لحینا ومیتنا الخ (عالمگیری مصری ج۱ ص ۱۲۴) . ظفیر

(۲). وشرط صحتها شرائط الصلوة المطلقة الخ (غنیة المستملی ج۱ ص ۵۳۹). ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار جلد اول ص ۸۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۸. ظفیر

(۴). وان دفن واهیل علیه التراب بغیر صلاة الخ صل علی قبره استحسانا مالم یغلب عل الظن تفسخه من غیر تقدیر هو الاصح (درمختار) وقیل یقدر بثلاثة ایام (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۴). ظفیر

وروسته دعاء اللهم اجعله لنا فرطا الخ اودڅلورم تكبير څخه وروسته دي سلام وګرځوی. اودسورة فاتحی ويل ددريم تكبير څخه وروسته ضروری نه دی، اوكه چيری ددعا په طور سره سورة فاتحه ووايي نودرسته ده. (۱) وعليه حمل ما ورد فی الحديث. (۲) فقط

يوسړی دجنازی په لمانځه کی دثناء اوددعاء پرځای قل هو الله، اوانا اعطينک ووايه، نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۸۸۴) كه يوبی علمه سړی دجنازی لمونځ وركی او ددعاء په ځای دقل هوالله احد او دانا اعطيناك سره لمونځ وركی نو دهغه دپاره څه حكم دی؟ لمونځ يی صحيح سو اوكه نه؟

جواب: په دی صورة کی دجنازی لمونځ وسو، ليكن هغه بد وكړل ولی چی دجنازی په لمانځه کی دقرآن كريم آيتونه او سورتونه ويل مكروه دی ماسوا دسورة فاتحی څخه، ځكه چی په دی کی اختلاف دی، نو آئنده داسی سړی امام كول نه دی په كار، اوهغه لره په كاردی چی ثناء او دجنازی دعاء دي ياده كړی، اوڅه سزا يی نسته (۳). فقط

يوه امام دڅلورو پرځای پنځه تكبيره وويل، نودجنازی لمونځ وسو اوكه نه؟ **سوال**: (۲۸۸۵) يوسړی دجنازی امام وو دڅلورو تكبيرونو پر ځای يې پنځه تكبيرونه وويل نو دهغه او دمقتديانو لمونځ وسو اوكه نه؟ او اعاده يی په كارده اوكه نه؟

جواب: دهغه لمونځ اودمقتديانو يی صحيح دی اواعاده يی لازمه نه ده، كما فی الدر المختار: ولو كبر امامه خمسًا لم يتبع لانه منسوخ فيمكث المؤتم حتى يسلم معه اذا سلم، وبه يفتى، قوله: وبه يفتى، رجحه فى فتح القدير بان البقاء فى حرمة الصلاة بعد فراغها ليس بخطاءٍ مطلقاً انما الخطآء فی المتابعة فی الخامسة (۴)، بحر، شامی، نو معلومه سوه چی په دی صورة کی لمونځ دټولو صحيح دی اومقتديان دي په پنځم تكبير کی متابعت دامام نه كوی. فقط

په څپليوكی دجنازی لمونځ صحيح دی اوكه نه؟ **سوال**: (۲۸۸۶) امام اومقتديانوته دجنازی

---

(۱). وصلاة الجنازة اربع تكبيرات ولو ترك واحدة منها لم تجز صلاته فيكبر للافتتاح ويقول سبحانك اللهم الخ ثم يكبر اخرى ويصلى على النبی ﷺ ثم يكبر اخرى ويدعو للميت وجميع المسلمين الخ فَإِنْ كَانَ الْمَيِّتُ صَغِيرًا عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - أَنَّهُ يَقُولُ : اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا الخ هَذَا إذَا كَانَ يُحْسِنُ ذَلِكَ فَإِنْ كَانَ لَا يُحْسِنُ يَأْتِي بِأَيِّ دُعَاءٍ شَاءَ ثُمَّ يُكَبِّرُ الرَّابِعَةَ ثُمَّ يُسَلِّمُ تَسْلِيمَتَيْنِ الخ وَلَا يَقْرَأُ فِيهَا الْقُرْآنَ وَلَوْ قَرَأَ الْفَاتِحَةَ بِنِيَّةِ الدُّعَاءِ فَلَا بَأْسَ بِهِ وَإِنْ قَرَأَهَا بِنِيَّةِ الْقِرَاءَةِ لَا يَجُوزُ ؛ لِأَنَّهَا مَحَلُّ الدُّعَاءِ دُونَ الْقِرَاءَةِ ، كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ (عالمگيری مصری، فصل فی الصلاة علي الميت ج۱ ص ۱۵٤، ط. ماجديه. ج۱ ص ۱۵٤). ظ

(۲). دجنازې په لمانځه کی فاتحه ويل څنګه دی؟ دزيات تفصيل دپاره دی ددې حصې په پای کی درج سوی رساله (النظم المستطاب لحكم القراءة فی صلاة الجنازة بأمّ الكتاب) وكتل سی. محمد أحمد الحقانی الأفغانی

(۳). ولايقرء فيها القرآن ولو قرأ الفاتحة بنية الدعاء فلا باس به الخ (عالمگيری مصری فی الصلاة علی الجنازة ج۱ ص ۱۵۴ ، ط. ماجديه ج۱ ص ۱۵۴). ظفير

(۴). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۷ - ۸۱۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۴. ظفير

لمونځ دځپلیو سره یا پرځپلیو لوړ په پښې اینښولو سره جائزدی اوکه نه؟

جواب: استعمال سوی ځپلی کمه چی په ناپاکه ځای باندی اینښوول کیږی دهغه ځپلی سره دجنازی لمونځ جائزنه دی، اوپه دغه ځپلیو باندی په پښو اینښوولو سره هم لمونځ کول درست نه دی، غرض دادی چی لکه څه رکم چی ټول لمونځونه په استعمال سوو ناپاکو ځپلیو سره جائزنه دی، همدغه رکم دجنازی لمونځ هم درست نه دی ځکه چی دلباس پاکوالی او دځپلی وغیره پاکوالی په هر یو لمونځ کی شرط [1] دی. فقط

(۲۸۸۷) سوال: **ځوک چی دجنازی په لمانځه کی ددوو تکبیرونو څخه وروسته شریک سی**: که چیری امام دجنازی په لمانځه کی دوه تکبیرونه ویلی وی اوبیا ځوك شریك سی نو هغه به دامام سره سلام ګرځوی اوکه نه باقی دوه تکبیرونه پوره کړی؟

جواب: باقی دوه تکبیرونه دي ووایی اوسلام دي وګرځوی [2]. فقط

(۲۸۸۸) سوال: **داهل حرمینو په شان که په جومات کی دجنازی لمونځ وسی نوڅه حکم دی**: دجنازی لمونځ په جومات کی کول جائزدی اوکه مکروه اهل حرمین شریفین چی په حرمین کی په عین صحن مسجد نبوی ﷺ کی دجنازی لمونځ کوی که چیری تمسکا بفعلهم دمسجد په صحن کی دجنازی لمونځ اداء سی نوبغیر دکراهت څخه جائز دی اوکه نه؟

جواب: دجماعت په جومات کی دجنازی لمونځ کول مکروه دی بناءاً علی ان المسجد انما بنی للمکتوبات وتوابعها کنافلة وذکر وتدریس علم [3] وهو الموافق لاطلاق حدیث ابی داود من صلی علی میت فی المسجد فلا صلاة له (درمختار) [4] اوباوجود ددی چی احنافو فقهاء کرامو په جومات کی دجنازی دلمانځه دمکروهوالی تصریح کړیده په دی باره کی داهل حرمینو شریفینو دعمل څخه استدلال کول په ټولو بلادو اوپه ټولو اوقاتو

---

[1]. ثم الشرط ☆ شرعا ما یتوقف علیه الشيء ولا یدخل فیه هی ستة طهارة بدنه ☆ من حدث بنوعیه ☆ وخبث مانع کذلك ☆ ومکانه ای موضع قدمیه ☆ وموضع سجوده اتفاقا فی الاصح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص ۳۷۳ – ۳۷۴ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۲). ظفیر

[2]. والمسبوق ببعض التکبیرات لایکبر فی الحال بل ینتظر تکبیر الامام لیکبر مع للافتتاح الخ والمسبوق لا یبدا بما فاته وقال ابو یوسف رحمه الله یکبر حین حضر کما لا ینتظر الحاضر فی حال التحریمة بل یکبر اتفاقا للتحریمة لانه کالمدرك ثم یکبر ان ما فاتهما بعد الفراغ نسقا بلا دعاء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۲). ظفیر

[3]. وکرهت تحریما وقیل تنزیها فی مسجد جماعة هو ای المیت فیه وحده اومع القوم واختلف فی الخارجة عن المسجد وحده اومع بعض القوم والمختار الکراهة مطلقا بناء علی ان المسجد بنی للمکتوبة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۷۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۴ – ۲۲۵) . ظفیر

[4]. ایضا ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۵ – ۲۲۶ . ظفیر

کی صحیح نه دی. فقط

دجنازی دلمانځه په باره کی وصیت کول: **سوال**: (۲۸۸۹) که څوك داوصیت وکړی چی زما دجنازی لمونځ دي فلانی سړی ورکی دتقوٰی اودیانت په وجه نودا وصیت به صحیح او معتبر وی اوکه نه؟

جواب: څوك مقرر کول چی زما دجنازی لمونځ دي فلانی سړی ورکی داوصیت باطل دی. شامی جلد اول ص ۷۵۰ والفتوٰی علی بطلان الوصیة لغسله والصلوة علیه ([1]). فقط

دجنازی دلمانځه اجرت جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۸۹۰) یوسړی ټول عمر لمونځ اوروژه نه ده کړی دمرګ څخه وروسته یی یوعالم په مشکله سره دپنځه روپی په فدیه اخیستلو سره دجنازی لمونځ ورکی داسی فدیه اخیستل په شریعت کی جائز دی اوکه نه؟

جواب: ددغه بینمانځه مسلمان دجنازی لمونځ فرض وو، لقوله ﷺ صلوا علی بر وفاجر ([2]) الحدیث، او دجنازی دلمانځه معاوضه اخیستل او فدیه اخیستل حرام دی، دا د اخیستونکی جهالت دی اوهغه دنیوی طمعی ړوند کړی دی چی دجنازی په لمانځه کولو باندی اجرت اخلی الله ﷻ دي ورته هدایت وفرمایی ([3]). فقط

په عیدګاه کی دجنازی لمونځ درست دی: **سوال**: (۲۸۹۱) کمه عیدګاه چی په یوځای کی محدوده ده لکه ددیوبند عیدګاه، دا دجومات په حکم کی ده اوکه نه؟ اوپه دی کی دجنازی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟ بعضو ملایانو داجومات ګرځولی دی چی عیدګاه هم دجومات په حکم کی ده، اودجنازی لمونځ کول یی پکښی منع کړی دی، داصحیح ده اوکه نه؟ په حواله دکتاب یی تحریر کړی. په بعضو کلیو کی دقبرستان سره متصل عیدګاه جوړه سویده هلته داخترونو لمونځ کیږی اودجنازی لمونځ هم هلته کیږی او د ډیری مودی څخه راپه دی خوا داطریقه راروانه ده اوس بعضو حضراتو په عیدګاه کی دجنازی دلمانځه بندیز کړیدی، نوشرعًا څه حکم دی؟

جواب: په درمختار کی دی: وأما المتخذ لصلاة جنازة أو عيد فهو مسجد في حق جواز الاقتداء وإن انفصل الصفوف رفقا بالناس لا في حق غيره به يفتى. فحل دخوله لجنب وحائض كفناء مسجد ورباط ومدرسة ومساجد حياض وأسواق الخ ([4]) وایضاً فیه فی الجنائز: وكراهة تحريماً وقيل تنزيهاً فی

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۱. ظفیر

([2]). شرح فقه اکبر ص ۹۱. ظفیر

([3]). ولا تصح الاجارة لعسب التيس الخ ولا لاجل الطاعات الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب کتاب الاجارة ج۵ ص ۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۵۵). ظفیر

([4]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب فی احکام المسجد ج۱ =

فی مسجد جماعة الخ قوله: فی مسجد جماعة ای المسجد الجامع ومسجد المحلة الخ ([1])، ددی عبارتونو څخه معلومه سوه چی دجنازی لمونځ په عیدګاه کی اداء کول درست دی، په خاص طورهغه عیدګاه چی هغه ددې دواړوکارونو دپاره جوړه سوی وی، یعنی داخترونو دلمانځه دپاره هم اودجنازی دلمونځونو دپاره هم، نوپه هغه کی دجنازی اداء کول بغیر دکراهت اوبغیر دتردده درست دی، لیکن که چیری په دی وجهی سره چی بعضو فقهاؤ عیدګاه من جمیع الوجوه دجومات په حکم کی کړیده لکه څنګه چی علامه شامی نقل کړی دی په هغه کی دجنازی دلمانځه داداء کولو څخه دې احتیاط وسی، خصوصا کله چی بله موقعه دجنازی دلمانځه اداء کولو دپاره موجوده وی نوښه اواحوط دی. قال فی الشمس ومقابل هذا المختار ماصححه فی المحیط فی مصلی الجنازة انه لیس له حکم المسجد اصلا وما صححه تاج الشریعة ان مصلی العید له حکم المساجد الخ. فقط

<u>دبینمازه دجنازی لمونځ دې ولی وسی؟</u> سوال: (۲۸۹۲) جناب تحریر فرمایلی دی چی دنیك اودبد اودبینمازه دجنازی لمونځ کول په کاردی، داخبره موږ تسلیم کړه، ځکه چی په نه کولو سره به ګنهګار سو، لیکن په دی صورة کی په لمونځ ګذار اوغیر لمونځ ګذار کی فرق څه پاته سو، کم خلګ چی بینمازه دی هغوی وایی چی دلمانځه ګذار اودبینمازه یوه درجه ده موږ ستاسی نصیحت نه منو. اوس موږ ته څه کول پکاردی؟

جواب: په حدیث شریف کی راغلی دی: صلوا علی کل بر وفاجر، الحدیث، یعنی دهریو نیك اوبد دجنازی لمونځ کوی، نو کله چی په حدیث شریف کی داراغلی دی اوفقهاؤ ؒ هم دغه لیکلی دی نوبیاپه دی کی دتردد کولو هیڅ وجه نسته، او وجه داده چی فاسق او فاجر چی کم مسلمان دی دالله ﷻ درحمت څخه هغه لره هم نا امیدی کول پکارنه دی، اودمرګ څخه وروسته هم دهغه دپاره دمغفرت دعاء کول په کاردی، اودجنازی لمونځ دعاء ده دمړی دپاره، اوپه حدیث شریف کی دامضمون راغلی دی چی دمرګ څخه وروسته چاته بدمه وایاست ولی چی هغوی په دنیا کی څه کړی دی دهغه جزا یا سزا به هغوی ته هلته ورکول کیږی، ژوندو خلګو ته هم داپکار دی چه دمسلمان مړی دپاره دمغفرت دعاء وکړی، که چیری الله ﷻ دغه ګنهګار وبخښی نودچا پکښی څه تاوان دی، اوپه قرآن پاك کی دی: قل یٰعبادی الذین اسرفوا علیٰ انفسهم لا تنقطوا من رحمة الله ان الله یغفر الذنوب جمیعًا انه هو الغفور الرحیم ([2])، یعنی ای محمد ﷺ ته وفرمایه

= ص ۲۱۵ ، ط. س. ج۱ ص ۲۵۷. ظفیر

([1]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی کراهیة صلاة الجنازة فی المسجد ج۱ ص ۸۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۴ – ۲۲۵). ظفیر

([2]). سورة الزمر : ۳. ظفیر

چې ای زمابندګانو چاچې زیادت کړیدی پرخپلو نفسونو باندی یعنی ظلم اومعصیت یې کړی دی تاسې مه ناامیده کیږی دالله ﷻ درحمت څخه بیشکه الله ﷻ به وبخښي ټول ګناهونه یقینًا هغه ډیر بخښونکی اودنهایت رحم والادی، باقی دامضمون ترکمه پوری ولیکل سی په دی کی څه وهم اوفکر مه کوی، چې کم حکم دی هغه کول پکاردی، بینمازه ته دلمانځه نصیحت هم کول په کاردی، اوپه ژوند کی هغه لره په هرشان بیرول هم په کاردی لیکن کله چې مړسی نودهغه خیر خواهی کول په کاردی اودهغه دپاره دالله ﷻ څخه دعا غوښتل په کاردی، یعنی دهغه دجنازی لمونځ کول پکاردی، دپاره ددی چې الله ﷻ دهغه دګناهونو څخه درګذر وفرمایي اوزموږ دګناهونو څخه دی هم درګذر وفرمایي. فقط

پرپلیته مځکه باندی دجنازی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال: (۲۸۹۳) دجنازی لمونځ دجومات څخه دباندی چیری چې ګندګی پرته وی کولی سی، دغه ځای پاك نه وی نوپه دغه ځای کی دجنازی لمونځ کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: مزکه په وچیدلو سره پاکه سی. کما فی الحدیث زکوٰة الارض یبسها (۱)، نو کله چې مزکه وچه وی اوپه ښکاره پرهغه باندی څه پلیتی نه وی نوهلته دجنازی لمونځ درست دی، که چیری پروچه مځکه باندی څه وچه پلیتی پرته وی نوپه کارده چې هغه دی لیری سی. فقط

په اوقات ثلاثه مکروهه کی دجنازی لمونځ څه رکم درست دی: **سوال**: (۲۸۹۴) ستاسی دیو خط نقل ماته راکول سو په هغه کی لیکلی دی چې دجنازی لمونځ په اوقات ثلاثه کی اداء کول په کاردی اودلیل لیکل سوی دی چې، ثلث لا یؤخرون، اوحدیث دعقبه بن عامر موپه مقابل ګرځولو سره تطبق فرمایلی دی اوتاویل مو کړی دی، داحقر په دی کی شبهه ده چې حدیث، ثلث لایؤخرون، په دی خبره باندی صریح دلالت نه کوی چې په اوقات مکروهه کی دی لمونځ دجنازی وسی اوحدیث شریف دحضرت عقبه بن عامرؓ صریح دلالت کوی په دی خبره باندی چې په اوقاتو ثلاثهؤ کی دي صلوة جنازه نه کوی. دوهمه شبهه داده چې که چیری په مباح اومنهی کی تقابل وی نومنهی لره به ترجیح ورکول کیږی نوبیا څه رکم په اوقات ثلاثه مکروه کی به دجنازی لمونځ بغیر دکراهت تنزیهی څخه اداء سی.

جواب: مسئله داده چې که چیری حاضروالی دجنازی کم چې سبب دی دواجبوالی دجنازی

---

(۱). مشکوٰة باب ثواب التسبیح والتحمید والتهلیل فصل ثانی ص ۲۰۱. ظفیر

دلمانځه، دا په عین اوقات ثلاثه کی وی، نوبیا داحنافوپه نزد دلمانځه مؤخر کول نه دی په کار، بلکی ښه همدا دی چی سمدستی دي اداء سی، اوکه چیری دجنازی حاضروالی داوقات ثلاثه ؤ څخه مخکی سوی وی نوداحنافو په نزد په اوقات ثلاثه ؤ کی دلمانځه اداء کول مکروه دی وجه دفرق داده چی په اول صورة کی وجوب ناقصا وسو اواداء هم ناقصه سوه اوپه دوهم صورة کی وجوب کامل وو اواداء ناقصه وسوه، نو ددی وجه مکروه تحریمی سو، بلکی دبعضو فقهاؤ په نزد بالکل صحیح نه سو نو اصل په صلاة جنازه کی همدا دی چی مؤخر نه سی، لکه چی دحدیث شریف، ثلث لا یؤخرون (١) څخه معلومیږی، البته په کم ځای کی چی مانع موجودوی نوهلته دي تاخیر وسی، لکه څنګه چی په صورة ثانیه کی دی کم چی موږ ذکرکی، یعنی په هغه صورة کی په کم کی چی حاضریدل دجنازی داوقات ثلاثه ؤ څخه مخکی سویدی. نو حدیث مبارك (٢) دعقبه بن عامر ؓ به پردغه صورة باندی محمول وی، اوحدیث مبارك ،ثلاث لایؤخرون، به پراول صورة باندی یعنی پرهغه باندی په کم کی چی حضور دجنازی په همدغه اوقاتو کی وی، ګویادهریوه په عموم کی په بل روایت سره تخصیص وسو ځکه چی دخبرواحد تخصیص په خبرواحد سره کیدی سی اوقیاس دهمدی موافق دی، غرض داچی دهغه تعلیل موافق کم چی مخکی لیکل سوی دی، ددواړو احادیثو مبارکو محمل متعین سو، او داویل صحیح نه دی چی حدیث شریف دعقبه ؓ صریح دی، اوحدیث شریف، ثلث لایؤخرون، صریح نه دی، ځکه چی حدیث مبارك دعقبه ؓ داوقات ثلاثه په ذکرکی خوبیشکه صریح دی لیکن په هغه کی داتصریح نسته چی حضور دجنازی په کم وخت کی وسو اوحدیث شریف، ثلث لا یؤخرون، که څه هم دجنازی دحاضروالی په ذکرکی صریح دی لیکن داوقات ثلثه ؤ په ذکر کی صریح نه دی، اودا شبهه چی په اباحت اوپه حرمت کی حرمت لره ترجیح وی، داهغه وخت وی کله چی مبیح او محرم سره متعارضین وی، اویوه بله وجه دمبیح دترجیح دپاره نه وی، اوپه ذکر سوی مسئله کی معلومه سویده چی په یوه صورة کی مبیح لره ترجیح ورکول په کاردی اوپه یوه کی محرم لره، اودا همدغسی ده لکه څنګه چی دطلوع اودغروب په وخت کی دبعضو روایاتو څخه دسهار اودمازیګر

(١). عن علی ؓ ان النبی ﷺ قال: یا علی ثلث لا تؤخرها الصلوة اذا اتت والجنازة اذا حضرت والایم اذا وجدت لها کفوا رواه الترمذی (مشکوٰۃ باب تعجیل الصلوة فصل ثاني ص ١٢١). ظفیر

(٢). وعن عقبة بن عامر ؓ قال: ثلاث ساعات کان رسول الله ﷺ ینهانا أن نصلي فیهن أو نقبر فیهن موتانا : حین تطلع الشمس بازغة حتی ترتفع وحین یقوم قائم الظهیرة حتی تمیل الشمس وحین تضیف الشمس للغروب حتی تغرب . رواه مسلم (مشکوٰۃ باب اوقات النهی فصل اول ص ٩۴). ظفیر

(دلمونځونو) منع والی معلومیږی اودبعضو څخه اباحت، همدغه رکم دلته هم هیڅ څه اشکال نسته، اوس بعضی فقهی عبارتونو نقل کوم، په کمو کی چی دپورتنی مضمون تصریح به هم وی اودا به هم معلومه سی چی په ذکر سوو دوو صورتونو کی په مخکنی صورة کی دتاخیر بلا کراهت جائز کیدل بلکی دعدم تاخیر افضل کیدل دکمو کمو محققینو رایه ده. علامه ابن عابدین رحمہ اللہ تعالی ددرمختار تردی قول: وفی التحفة الافضل ان لاتؤخر الجنازة، لاندی لیکی: وما في التحفة أقره في البحر والنهر والفتح والمعراج لحديث ثلاث لا يؤخرن: منها الجنازة إذا حضرت وقال في شرح المنية: والفرق بينها وبين سجدة التلاوة ظاهر لان التعجيل فيها مطلوب مطلقا إلا لمانع، وحضورها في وقت مباح مانع من الصلاة عليها في وقت مكروه، بخلاف حضورها في وقت مكروه وبخلاف سجدة التلاوة، لان التعجيل لا يستحب فيها مطلقا اهـ ، ردالمحتار جلد اول ص ٢٧٥، ([1]) فقط

عیدګاه ته چی دلمانځه څخه مخکی جنازه راسی نو جنازه دی کم وخت وسی: سوال: (٢٨٩٥) که چیری یوه جنازه داختر په ورځ داختر دلمانځه څخه مخکی دعیدګاه دجومات احاطی ته راوړل سی اوکښی ښوول سی نودجنازی لمونځ په کم وخت کی کول په کاردی؟ که چیری داختر دلمانځه څخه وروسته یی کوی نودخطبی څخه مخکی اوکه نه وروسته؟

جواب: په درمختار کی دی. وتقدم صلوة الجنازة على الخطبة الخ ([2])، ددی څخه معلومه سوه چی دجنازی لمونځ داختر دلمانځه څخه وروسته کول په کاردی، اودخطبی څخه یی مخکی کول په کاردی. فقط

دجنازی په لمانځه کی دسورة فاتحی ویل څنګه دی؟ ([3]) **سوال:** (٢٨٩٦) دجنازی په لمانځه کی دسورة فاتحی ویلو څه حکم دی؟ په فتاویٰ عالمګیریه کی یی جواز لیکلی دی، اوقاضی ثناء الله صاحب قدس سرہ هم په خپل وصیت نامه کی دسورة فاتحی ویل جائز لیکلی دی؟

جواب: فقهاؤ دالیکلی دی چی که چیری ددعاء په نیت دجنازی په لمانځه کی سوة فاتحه ووایی نودرست دی همدامطلب دی دعالمګیری دروایت اودقاضی صاحب دتحریر. فقط

په جنازه کی دشرکت نه کولو وصیت: سوال: (٢٨٩٧) څه فرمایی ددین عالمان اودشرعی مفتیان په دی مسئله کی چی دوه کسان په خپلو کی سکه وروڼه دی، مشر ورور یو دریم

([1]). ردالمحتار كتاب الصلوة ج١ ص ٣٤٧ ، ط. س. ج١ ص ٣٧٤. ظفير

([2]). الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العيدين ج١ ص ٧٧٥ ، ط. س. ج٢ ص ١٢٧. ظفير

([3]). دزیات تفصیل دپاره وګوره دهمدي حصي په پای کی رساله مسمی په (النظم المستطاب) سره . حقانی

سړی ته داوصيت وکی چی زما کشر ورور دي زما په کفن اوپه تجهيز کی نه شريکيږی، نو په دې صورت کی کشر ورور دده په کفن اوپه تجهيز کی شريکيدلی سی اوکه نه؟

جواب: داوصيت ناجائز اوباطل دی په دی باندی عمل کول نه دی په کار، بلکی دمړی کشر ورور لره دپاره داداء کولو داسلامی حقوقو اوصله رحمی پاللو که څه هم نور خلگ تجهيز اوتکفين کونکی کافی موجودوی شريکيدل په کاردی. قال النبی ﷺ حق المسلم علی المسلم خمس ردالسلام وعيادة المريض واتباع الجنازة واجابة الدعوة وتشميط العاطس ([1])، الحديث. قال فی الدر المختار اوصی بان يصلی عليه فلان (الی ان قال) او يطين قبره اويضرب علی قبره قبة اولمن يقرأ علی قبره شيئا فهی باطلة الخ ([2]).

دجنازی په لمانځه کی تکرار درست نه دی: **سوال**: (٢٨٩٨) دجنازی لمونځ مکرر کولی سی اوکه نه؟

جواب: دجنازی دلمانځه تکرار درست نه دی، يعنی کله چی ولی يووار لمونځ وکی، يا دولی په اجازه سره لمونځ وسو، نواوس به دوباره دهغه جنازه نه سی کيدلی داحنافو مذهب همدا دی ([3]).

ديوی مياشتی ماشوم بی لمانځه اوبی کفنه پټول درست نه دی: **سوال**: (٢٨٩٩) يوسړی ديوی مياشتی خپل ماشوم بی غسله اوبی لمونځه دفن کړی، دهغه څخه وروسته بل سړی هم همدغه رکم خپل هلك پټ کړی، نو دداسی کوونکی دپاره څه سزا ده؟

جواب: شرعی حکم دادی چی داسی ماشومانو لره غسل ورکول اودجنازی کول يی ضروری دی، کمو خلگو چی داسی وکړل هغوی ته دي آئنده تاکيد اوتنبيه وسی چی بيا داسی مه کوی، اوچی څه مومخکی وکړل دهغه څخه توبه وکاږی، او دهغوی دپاره څه سزا مقرره نسته ([4]). فقط

پرسړی اوپرښځی باندی په يوځای دجنازی لمونځ درست دی اوکه نه: **سوال**: (٢٩٠٠) يو مړ سړی اومړه ښځه دواړه بالغ ددواړو جنازه په يووار کول جائزدی اوکه نه؟ زيد ددواړو

([1]). مشکوٰة باب عيادة المريض ص ١٢٣. ظفير

([2]). الدرالمختار کتاب الوصايا ج٢ ص ٣٢٢ ، ط. س. ج١ ص ٦٦٦. ظفير

([3]). ثم عدم جواز صلوٰة غير الولی بعده مذهبنا وبه قال مالك رحمه الله (غنية المستملی ص ٥٤٢)، وان صلی من له حق التقدم (الی قوله) اومن ليس له حق التقدم وتابعه الولی لا يعيد (درمختار، ط. س. ج٢ ص ٢٢٣). ظفير

([4]). که چيبری غالب گمان وی چی جوسه به چاودلی نه وی نوپه دی حالت کی به دهغه پرقبرباندی لمونځ کول کيږی ددی څخه وروسته به نه کول کيږی. وان دفن واهيل عليه التراب بغير صلاة اوبها بلا غسل اوممن لا ولاية له صلی علی قبره مالم يغلب علی ظنه تفسخه من غير تقدير هو الاصح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٤). ظفير

ذکر سوو مړو جنازه وروسته اومخکی کښبی ښووله او لمونځ یی باندی وکی، اوبکر وویل چی مړه ښځه دی جلا سی اوپه هغه دي بیا لمونځ وسی؟

جواب: ددواړو جنازه په یووار کول درست دی که څه هم ښه داده چی جلایی وکړی لیکن دمړو دډیروالی اودعامی وبا په صورة کی په جواز باندی په عمل کولو کی یعنی دټولو جنارو لمونځ په یووار کولو کی هم څه حرج نسته، په درمختار کی دی، واذا اجتمعت الجنائز فافراد الصلوة اولی وان جمع جاز الخ (١)، نوکله چی پردواړو جنازو باندی په یو وار لمونځ وسو، نوبکر لره دښځی دجنازی لمونځ دوباره راګرځول دمشروع څخه خلاف سول، ځکه چی دجنازی لمونځ یووار وسی نودوباره یی دکولو حکم نسته (٢)، نو دادبکر دناخبرتیا نتیجه ده. فقط

دجنازی دلمانځه څخه وروسته یی پرجامه باندی داغ ولیدی نوڅه حکم دی؟ سوال: (٢٩٠١) یوسړی امام سو دجنازی لمونځ یی ورکی، بیا هغه پرخپلی جامی باندی داغ ولیدی او دغسل حاجت ورته معلوم سو، نودغه لمونځ درست سو، اوکه نه په قبر باندی یی دوباره وکړی؟

جواب: په دی صورة کی لمونځ ونه سو دوباره دي وسی که چیری دفن سوی وی، نودهغه پرقبر باندی کول په کاردی یعنی دچاودلو څخه مخکی، اوبعضو ددرو ورځو حکم لګولی دی یعنی په دری ورځو کی دننه دننه پرقبر باندی لمونځ درست دی، اوبیانه (٣) دی.

دډیرو جنازو لمونځ په یووار: **سوال**: (٢٩٠٢) ددوو درو مړو دجنازی لمونځ په یووار کول درست دی اوکه نه؟

جواب: جائزدی، لکه څنګه چی په درمختار کی دی، واذا اجتمعت الجنائز فافراد الصلوة علی کل واحدة اولی من الجمع (الی ان قال) وان جمع (٤) جاز الخ.

دولد الزنا جنازه کول په کاردی: **سوال**: (٢٩٠٣) پرولد الزنا باندی دجنازی لمونځ کول جائز دی اوکه نه؟ **جواب**: کول یې په کاردی (٥). فقط

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٢١ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٨. ظفیر

(٢). وان صلی الولی لم یجز لاحد ان یصلی بعده (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٣. ظفیر

(٣). وان دفن واهیل علیه التراب بغیر صلاة اوبها بلا غسل اوممن لا ولایة له صلی علی قبره استحسانا مالم یغلب علی الظن تفسخه من غیر تقدیر درمختار. وقیل یقدر بثلاثة ایام (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٤). ظفیر

(٤). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٢١ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٨. ظفیر

دجُمعې دغسل په وجه سره په جنازه کې شریک نه سو نو ایا ګنهګار سو؟ سوال: (۲۹۰۴) یوسړی دجُمعې دغسل وغیره ضروریاتو په وجه سره دجنازې په لمانځه کې شریك نه سوو نوګنهګار به وی اوکه نه؟

جواب: دجنازې لمونځ فرض کفایي دی، که بعضو خلګو دجنازې لمونځ اداکې نوکم سړی چې شریك نسو نو هغه به ګنهګار نه وی (۱) خودا ضروری ده چې ددی دثواب څخه به محرومه وی. فقط

دجنازې لمونځ داختر دخطبې څخه مخکې دی اوکه وروسته؟ سوال: (۲۹۰۵) که چیری څوك دلوی یا دکوچنی اختر په ورځ وفات سی، اوجنازه عیدګاه ته په داسی وخت کی را ورسیږی چې خلګو (داختر) لمونځ کړی وی نودجنازې دخطبې څخه په مخکې کولوکې خو څه شرعی نقصان نسته، دلته دخطبې څخه وروسته وسو نولمونځ وسو اوکه نه؟

جواب: په درمختار کې یې لیکلی دی چې دجنازې دلمانځه څخه داختر لمونځ مخکې وکې اودجنازې لمونځ دخطبې څخه مخکې وکی (۲) لیکن که دخطبې څخه وروسته وسی نوبیا هم لمونځ وسو اوڅه وهم مه کوی. فقط

کمه مسلمانه ښځه چې دکافر په کورکې مړه سوه او کافرانه رواجونه باندې وسوه نو دهغې دجنازې لمونځ به کول کیږی اوکه نه؟ سوال: (۲۹۰۶) یوی مسلمانی ښځې دیوکافر سړی سره دکفر درسم اورواج موافق واده وکی او ورسره اوسیدله چې دهغوی بت خانی ته به تلله اومذهبی رسومات عبادت وغیره به یې هم کول، داسی ښځه چې مړه سی نو دهغې جنازه کول اوهغه دمسلمانانو په مقبره کی دفن کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: چونکې دمسلمان په تکفیر کی احتیاط تام لازم دی اوحتی الوسع دیو مسلمان تکفیر کول نه دی پکار، بل داچې فقهاؤ تصریح فرمایلی ده چې که چیری په یوسړی کی یوکم سل ۹۹ وجهې دتکفیر وی اوصرف یوه وجه چې هغه هم ضعیفه داسلام وی نوبیا هم هغه مسلمان ګڼل په کاردی اودمسلمانانو معامله کول ورسره په کاردی، که څه هم عندالله هغه کافروی لیکن موږ لره دهغه سره معامله کول دمسلمانانو په شان کول لازم

---

(۵). وهی فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰). ظفیر

(۱). والصلاة علیه فرض کفایة بالاجماع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۷). ظفیر

(۲). وتقدم صلوٰتها علی صلوة الجنازة اذا اجتمعا لانه واجب عینا ﴿ وتقدم صلوٰة الجنازة علی الخطبة ﴿ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۵ ، ط. س. ج۲ ص ۱۶۷). ظفیر

دی لکه ښنگه چی په ردالمحتار کی دی: روی الطحاوی عن اصحابنا لا يخرج الرجل من الايمان إلا جحود ما أدخله فيه، ثم ما تيقن أنه ردة يحكم بها، وما يشك أنه ردة لا يحكم بها، إذ الاسلام الثابت لا يزول بالشك مع أن الاسلام يعلو، وينبغي للعالم إذا رفع إليه هذا أن لا يبادر بتكفير أهل الاسلام مع أنه يقضي بصحة إسلام المكره. وفی الفتاوٰی الصغرٰی الكفر شی عظيم فلا اجعل المؤمن كافراً متٰی وجدت روايةً ان لايكفر آه وفی الخلاصة وغيره اذا كان فی المسئلة وجوه توجب التكفير ووجه واحد يمنعه فعلی المفتی ان يميل الی الوجه الذی يمنع التكفير الخ ومثل هذه الروايات كثيرة (١)، **ددی وجه ترخو پوری چی ددغه ښځی مرتدوالی په يقين سره ثابت نه وی او هغه خپل ځان ته مسلمانه وايی، نودهغې دمرگ ځخه وروسته پرهغې باندی دجنازی لمونځ کول په کاردی اوهغه دمسلمانانو په هديره کی ښخول په کاردی، په حديث شريف کی دی**: صلوا علی كل بر وفاجر الحديث، قال فی شرح المنية رواه الدار قطنی وعلل بان مكحولاً لم يسمع من ابی هريرة ﷺ ومن دونه ثقات وحاصله انه مرسل وهو حجة عندنا وعند مالك وجمهور الفقهاء، ص ٤٧٩.

كم قوم چی داسلام سره تعلق لری دهغوی جنازه به کول کيږی اوهغوی جومات ته راتللی سی:

سوال: (٢٩٠٧) كم خلگ چی ددايی توب كسب كوی او دا كار هم كوی چی كم غوايان وغيره مړه سی نودهغه ځخه څرمن باسی اوددباغت ځخه وروسته يی خرڅ کړی نو داقوم ډير رذيل گڼل كيږی لهذا (نور خلگ) داقوم په خوراك څښاك اوجُمعه او اخترونو کی نه شريكوی نوپه دی باره کی څه حكم دی، او دداسی قوم دجنازی لمونځ كول جائزدی اوكه نه؟ پرنه كوونكو باندی څه حكم دی؟ اوكم خلگ چی پې پر جنازه كوونكی عالم باندی طعن اوتشنيع كوی اوبد رد ورته وايی هغوی ښنگه دی؟

جواب: دغه خلگ كله چی مسلمانان دی نودجُمعې اودجماعت ځخه اوجومات ته دراتللو ځخه منع كول يی نه دی په كار، كنی منع كونكی به ددی آيت مصداق وگرځی، ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان يذكر فيها اسمه وسعٰی فی خرابها (٢)، او دهغوی دمړی جنازه كول لازم دی، په حديث شريف کی دی، صلوا علی كل بر وفاجر الحديث (٣) رواه الدار قطنی، وفی الدر المختار وهی فرض علٰی مسلم مات خلا اربعة بغاة وقطاع الخ (٤)، نو ښكاره ده چی ذكرسوی مسلمانان باغيان نه دی اونه لاره شكونكی وغيره دی لهٰذا ددوی

(١). ردالمحتار باب المرتد ج٣ ص ٣٩٣ ، ط. س. ج۴ ص ٢٢٣ - ٢٢۴ . ظفير
(٢). سورة البقرة ركوع ١۴. ظفير (٣). وگوری شرح فقه اكبر ص ٩١. ظفير
(۴). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨١۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٠ ظفير

دجنازی لمونځ دفقهاؤ دقول مطابق فرض دی، اوکم عالم چی دافرض اداء کړل هغه ته به ثواب اواجر ورکول کیږی، هغه ته بدرد ویل او دهغه سپکاوی کول فسق او معصیت دی، کما ورد سباب المسلم فسوق، (١) نوطاعنین فاسق اوفاجر دی، توبه دی وکاږی. فقط

دډمی جنازه کول درست دی: سوال: (٢٩٠٨) یومولوی صاحب دیوی ډمی جنازه وکړه، او څه نذارانه هم ورکول سوه، یوڅو ورځی وروسته مولوی صاحب دجُمعې دلمانځه څخه مخکی دخپل دغه فعل په تائیدکی دوعظ په طور وفرمایل چی ماته علم نه وو چی دا ښځه څوك ده، اوکمی روپی چی ماته په معاوضه کی راکول سوی هغه به په دغسی کارونو کی ولګوم مثلا دګندګی پورته کونکی بنګی ته به یی ورکړم، اوموږ لامبو وهونکی یو، دلامبو په ذریعه دډوبیدلو څخه ځان ساتلی سو، اوجاهل نه سی ورڅخه محفوظ کیدلی. نوپه صورة مسئوله کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: دمسلمانی ډمی جنازه کول شرعا ضروری دی، ځکه چی په حدیث شریف کی دی، صلوا علی بر وفاجر الحدیث (٢)، یعنی دهر نیك اوبد دجنازی لمونځ کوی، اوکمی روپی چی دغه مولوی صاحب ته ورکول سی نوکه چیری هغه حرامه ګڼه وه نوهغه په هیڅ ډول جائز کیدی نه سی. داویل دهغه غلط دی چی دحرام مال دحاصلولو څخه وروسته به هغه په ګندګی وغیره لوړولو کی صرف سی ځکه چی که په خوراك کی یی لګوی اوکه په جامه کی، یا دنایی په اجرت کی یی مصرف کی یا دبنګی وغیره په اجرت کی ټول برابر دی اوناجائز دی، اودحرام مال والا دپاره دا حیله بیشکه فقهاؤ لیکلی ده چی دقرض په طریقه دي شیان واخلی یادي دچا څخه روپی په قرض واخلی اوسودا دي وکړی، نودهغه خوراك دبعضو په نزد درست دی، بیادغه قرض که دخپل حرام مال څخه اداء کوی اوکه دحلال څخه، هغه مخکنی خوراك حلال دی، دادبعضو قول دی، اوبعضی یی مطلقا حرام فرمایی، او ددغه مولوی صاحب داویل چی موږ لامبو وهونکی یو یعنی موږ ته حرامه پیسه ضرر نه راکوی دا ویل غلط دی او بیهوده خیال دی. (٣) فقط

دمقتدی فریضه څه ده؟ سوال: (٢٩٠٩) دجنازی په لمانځه کی دمقتدی فریضه څه ده؟

جواب: مقتدی به هم هغه ویل کوی کم چی امام کوی، دجنازی دلمانځه طریقه په یوه أردو

(١). مشکوٰة باب حفظ اللسان والغیبة والشتم ص ٤١١. ظفیر
(٢). شرح فقه اکبر ص ٩١. ظفیر
(٣). المکاس مثلا یاخذ من احد شیئا من المکس ثم یعطیه اخر ثم یاخذه من ذالك الاخر اخر فهو حرام (رد المحتار باب البیع الفاسد مطلب الحرمة تتعدد ج٤ ص ١٨٠، ط. س. ج٥ ص ٩٨). ظفیر

(یا پښتو) رساله کی وګوری، مختصر داچی دمخکی تکبیر څخه وروسته به، سبحانك اللهم الخ، او ددوهم تکبیر څخه وروسته درود شریف اودریم تکبیر څخه وروسته دعاء اوڅلورم تکبیر څخه وروسته سلام [1] اړول دی. فقط والله تعالٰی اعلم

دمسلمانی بدکاری ماشوم چی دهندوڅخه وسی دهغه دجنازی دلمانځه څه حکم دی؟ سوال: (۲۹۱۰\۱۱) مسلمانه زانیه ښځه دهندو سره ده دهغه څخه چی کم اولاد پیدا سی نودهغه دجنازی لمونځ کول په کاردی اوکه نه؟

دبی نمازه جنازه نه کول په کاردی اوکه نه؟ سوال: (۲۹۱۱\۱۲) دبی نمازه دجنازی لمونځ تنبیهًا پریښوول څنګه دی؟ اوکول یی منع دی اوکه څنګه؟

جواب: \۱: کول یی په کاردی، لٰکن الاولاد مسلمین تبعًا لامهم.

\۲: دلمانځه دنه کونکی دجنازی دلمانځه کولو منع والی می چیرته ترنظر نه دی تیر سوی، بلکی دفقهاؤ داقوالو اودحدیث شریف، صلوا علی کل بر وفاجر، څخه همدا ثابتیږی چی لمونځ یی کول په کاردی. فقط

پربی نمازه باندی دجنازی لمونځ عبرةً نه کول څنګه دی؟ سوال: (۲۹۱۲) دعبرت په غرض دبی نمازه دجنازی لمونځ نه کول اوبغیر دجنازی څخه دفن کول یی څنګه دی؟ مستحسن دی اوکه نه؟

جواب: دافعل جائز اومستحسن نه دی، بلکی حرام اودفرضو پریښوول دی، دبی نمازه مسلمان دجنازی لمونځ کول په شان دلمانځه ګذار فرض دی وقال ﷺ صلوا علی کل بر وفاجر، الحدیث. اوفقهاؤ چی دجنازی دلمانځه څخه کم خلګ ایستلی دی لکه باغیان وغیره، په هغه کی یی فاسقان بینمازان نه دی شمار کړی نو شرعی فرض دعبرت په خیال پریښول درست نه دی [2]. فقط

دتاړ (یوقسم درختی دمیوې) **چښونکی دجنازی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ سوال**: (۲۹۱۳\۱) دتاړ ددرختی په میوه او رس کی نشه وی، دشرابو څخه څه اندازه کم دنشی والا شی یعنی دتاړ وغیره خوړل چښل څنګه دی؟ اودداسی سړی سره دخوراك اودچښاك اودهغه دجنازی دلمانځه څه حکم دی؟

---

[1]. فیکبر للافتتاح ویقول سبحانك اللهم الخ ثم یکبر اخری ویصلی علی النبی ﷺ ثم یکبر اخری ویدعو للمیت وجمیع المسلمین (الی قوله) ثم یکبر الرابعة ثم یسلم تسلیمتین (عالمګیری کشوری ج۱ ص ۱۲۱ ، ط. ماجدیه ج۱ ص ۱۲۴). ظفیر

[2]. وهی (ای صلاة الجنازة) فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة بغاة اوقطاع طریق الخ. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص ۸۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰). ظفیر

<u>دسود خور دجنازي لمونځ</u>: **سوال**: (۲۹۱۴\۲) دسود معامله څنګه دی؟ اوکم سړی چې سود اخلی دهغه دجنازي دلمانځه څه حکم دی؟ او دهغه سره تعلق ساتل څنګه دی؟

جواب: ۱\ : دنشی دشی خوړل اوچنبل حرام دی اودهغه سره خوراك چنباك كول نه دی په كار، اوجنازه يی وكړئ (۱).

۲\ : دجنازي دلمانځه هم هغه حکم دی کم چې پورته ذکرسو، باقی دسود ورکول او اخيستل حرام دی، او دداسی سړی څخه جلا اوسيدل په کاردی. فقط

<u>دهندوانو په نابالغه ماشوم باندي دجنازي لمونځ نسته</u>: **سوال**: (۲۹۱۵) دهندوانو په نابالغه مړ ماشوم باندی دجنازي لمونځ کول دحديث شريف څخه ثابت دی اوکه نه؟

جواب: نه دی (۲). فقط

<u>دبد بويي څخه وروسته جنازه</u>: **سوال**: (۲۹۱۲) کم مړی چې دوی ورځي پروت وو، اوبد بويي پکښي پيدا سوه نودهغه دجنازي لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چيری دهغه دجنازي لمونځ مخکی نه وی سوی نوفرض دی چی دهغه دجنازي لمونځ وسی (۳).

<u>دمازديګر او دماښام ترمينځه دجنازي لمونځ درست دی</u>: **سوال**: (۲۹۱۷) دمازديګر او د ماښام ترمينځه دجنازي لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: دمازديګر اودماښام ترمينځه دجنازي لمونځ مکروه نه دی ،کما فی الدر المختار لا يکره قضاء فائتة الخ وصلاة جنازة (۴).

<u>دبی لمانځه سړي مړي راکښل جائز نه دی</u>: **سوال**: (۲۹۱۸) يوسړی مړسوی دی، چاچی په خپل ټول عمر کی ديوه وخت لمونځ نه دی کړی، دهغه مړی څلوېښت قدمه درسی په ذريعه راکش کړل سو، او بيايي جنازه وسوه، نو ددغه خلګو دپاره څه حکم دی؟

جواب: واقعی دبی نمانځه مسلمان په رسی کی دتړلو او دراکشولو حکم په شريعت کی نسته، داسی کول نه وو پکار، دهغه دپاره استغفار کول په کاردی، اودبينمازه مسلمان دجنازي لمونځ کول په کاردی، لقوله ﷺ صلوا علی کل بر وفاجر، الحديث (۵).

---

(۱). وهی فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة الخ (درمختار ، ط. س. ج۲ ص۲۱۰). ظفير

(۲). وشرطها ای لصلاة الجنازة ستة، اسلام الميت ؒ کصبی سبی مع احد ابويه لا يصلی عليه لانه تبع له ای فی احکام الدنيا لا العقبی لما مر انهم خدم اهل الجنة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۷). ظفير

(۳). وان دفن واهيل عليه التراب بغير صلاة صلی علی قبره مالم يغلب علی الظن تفسخه من غيرتقدير هوالاصح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار، باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۷۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۴). ظفير

(۴). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلوة ج۱ ص ۳۴۸ ، ط. س. ج۱ ص ۳۷۵. ظفير

دروژه دار مړي جنازه: (٢٩١٩) **سوال**: که يو روژه دار سړی په يو ناګهانی مرض کی مبتلا سی اوروژه ماته نه کړی، اوهمداسی مړسی، نو بکر وايي چی دهغه دجنازی لمونځ دي ونه سی، داصحيح ده اوکه نه؟

جواب: ددغه سړی دجنازی لمونځ کول پکاردی، دبکر خبره غلطه ده هغه ګنهګارنه سو، په شامی کی منقول دی چی په داسی صورة کی هغه ته اجر ورکول کيږي. ويؤجر لوصبر ومثله سائر حقوق الله تعالى كافساد صوم وصلوٰة الخ (١).

بنجاريان (يوغرنۍ قوم) **مسلمانان دی دهغوی جنازه دي وسی اوهغوی په لمانځه کی شامليدلی سی**: (٢٩٢٠) **سوال**: په نمارِ ملك کی اکثره قوم مسلمانان بنجاريان اودندافان دی، داخلګ داخترونو په لمانځه کی شامليږي، ليکن دهندوانو په رواجونو لکه هولی، ديوالی، سهره اوځومره نور چی دهندوانو تهوارونه دی په هغه کی هم په شوق اوپه رغبت سره شامليږي، اودبتانوعبادت هميشه کوی، اودهندوانو لباس اچوی اوفخر کوی چی مورِ خلګ بالکل په هندوانو کی ننوزو، داخلګ دروژی لمونځ اودکلمی څخه بالکل بی برخی دی، واده، ښادی دهندوانو په شان کوی، نوايا ددوی نکاح اودجنازی لمونځ کول شرعًا جائزدی اوکه نه؟

جواب: داسی جاهلانو خلګو ته په تدريج اوپه کراره کراره سره داسلام کلمه اوداسلام احکام ښوول په کاردی، قال الله تعالى ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتی هی احسن. (٢) ددی حاصل دادی چی دالله ﷻ لاری ته او ددين طرف ته په حکمت سره اونصيحت حسنه سره خلګ رابلل په کاردی اوپه ښه طريقی سره دهغوی پوهول او ورباندی منل په کاردی، اودکفری اوشرکی رواجونو ددوی څخه پرېښوول پکار دی، او ددوی دجنازې لمونځ کول پکار دی، اونکاح يی تړل پکار دی، اوتر نکاح مخکی دی په دوی باندی دکفر اوشرك څخه توبه وکښل سی، دارنګه هميشه په دوی باندی توبه کښل پکار دی، اوپه دوی کی چی څوك مريض وی په خاص ډول هغه ته دمرګ په مريضی کی توبه کښل پکاردی، ترڅوچی دده دجنازې په لمانځه کی شبه نسی پاته. فقط

بې له اودسه دجنازې لمونځ جائز نه دی: (٢٩٢١) **سوال**: يو شخص وايي چی که چيری دجنازی په لمانځه کی څوك بی اودسه هم شريك سی اواداء يی کړی نوحرج اوبديت يی نسته داخبره څنګه ده؟

---

(٥). شرح فقه اكبر ص ٩١. محمد ظفير الدين الصديقی

(١). ردالمحتار كتاب الصوم فصل فی العوارض المبيحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٥٨ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢١. ظف

(٢). سورة النحل : ركوع ١٢ . ظفير

جواب: داخبره غلطه ده چی دجنازی لمونځ بی اودسه جائزدی، داودس یادتیمم څخه بغیر دجنازی لمونځ کول گناه کبیره ده، البته که چیری امام ودریږی اویو سړی یاډیر کسان په داسی وخت کی راسی چی که چیری اودس کوی نو تکبیرونه ځینی فوت کیږی، نوهغوی لره دتیمم کولو څخه وروسته شریك کیدل درست دی، کما فی الدرالمختار: وجاز لخوف فوت صلوة جنازة، ای کل تکبیراتها ۞ درمختار فی الشامی قوله وجاز لخوف فوت صلاة جنازة ای ولو کان الماء قريبًا الخ ([1]). فقط

<u>دمختلفو ماشومانو احکام</u>: **سوال**: (۲۹۲۲\۱) یوماشوم دمشرك دی کم چی دبلوغ څخه مخکی مړسو؟

سوال: ۲۹۲۳\۲ دوهم هغه ماشوم دی چی زید دهغه قریبی یا لیری خپل دی. لیکن ددغه ماشوم مور اوپلار دپیدا کیدلو څخه وروسته مرتد سول؟

سوال: ۲۹۲۴\۳ دریم هغه ماشوم دی چی دپیدا کیدلو څخه وروسته داسلام په حالت کی یی په والدینوکی یو وفات سو اویو مرتد سو، اوس به داماشوم دچا تابع وی، اودا دری کوچنی دزید دپرورش په وجه کلمه طیبه په ښه شان سره ویلی سی لیکن دومره عقل اوتمیز پکښی نه سته چی داسلام شرطونه وپیژنی، که چیری دا دری کوچنی ماشومان دبلوغ څخه مخکی مړه سی نو تکفین اوتجهیز به یی دمسلمانانو په شان کوو اوکه نه؟ اوددی ټولو حکم برابر دی اوکه نه څه فرق یی سته؟

جواب: نابالغه ماشوم په کفر اوپه اسلام کی دمور اودپلار تابع وی ،کمافی الدرالمختار والشامی قوله لتبعيته لابويه (درمختار) ای فی الاسلام والردة شامی، ([2]) اوکه چیری په هغوی کی یعنی په والدینو کی څوك مسلمان سی نوماشوم به دهغه تابع سی اومسلمان به گڼل کیږی، کمافی الدر المختار والولد يتبع خير الابوين دينا الخ ([3]) اودکافر ماشوم که چیری ممیز یعنی داوو کالو سی نودهغه اسلام راوړل صحیح اومعتبر دی کما فی الدر المختار، اواسلم الصبی وهو عاقل ای ابن سبع سنين صلی عليه، وفيه ايضا والعاقل المميز وهو ابن سبع سنين الخ ([4])، درمختار. نو اول ماشوم کم چی دمشرك دی که چیری هغه داوو کالو سوی وی اوداسلام دکلمی ویلو څخه وروسته مړسوی وی نو هغه دي مسلمان وگڼل سی، اودهغه تکفین اوتجهیز دی دمسلمانانو په شان وسی، او

([1]). ردالمختار باب التيمم ج۱ ص ۲۲۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۱. ظفير

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز . ظفير

([3]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص ۵۴۱ ، ط. س. ج۳ ص ۱۹۲. ظفير

([4]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۰. ظفير

دوهم ماشوم دمور اوډپلار دمرتدوالي په وجه سره په مرتدوالي کی دهغوی تابع سو، لیکن که چیری داوو کالو سی اوداسلام په کلمه باندی یی پرورش وسی نومسلمان به سی اوپه دی حالت کی دمړ کیدلو سره به دهغه تجهیز اوتکفین دمسلمانانو په شان وی، اودجنازی لمونځ به یی کول کیږی، اودریم ماشوم به دخیر الابوین یعنی دمسلمان مور یا پلار په تابع کیدلو سره مسلمان ګڼل کیږی اودمسلمانانو په شان به دهغه تکفین او تجهیز او دجنازی لمونځ کیږی (١). فقط

که دجنازی لمونځ وسو او یو سړی په څه وجهی شریک نه سو نوملامت نه دی: **سوال**: (**۲۹۲۵**) یومړی داسی میدان ته راوړل سو، په کم کی چی دمدرسی طلباء وو په کثرت سره لوبی کولی اوهغه میدان په باران سره لوند وو اونمداره وو، دبنده په پښوکی موزی وی دهغه دحفاظت په وجه دجنازی په لمانځه کی شریك نه سو، دا ګناه ده اوکه نه؟

جواب: دجنازی لمونځ فرض کفایی دی، که چیری نورو مسلمانانو دجنازی لمونځ وکی، نوپه پرینبوونکی باندی ملامتیا اومؤاخذه نسته (٢)، لیکن دا ضروری ده چی محض دموزو دحفاظت په وجهی سره دجنازی دلمانځه نه کول ښه نه دی، په ائنده کی دی ددی څخه احتیاط وسی. فقط

مقتدی دي دامام سره دجنازي په لمانځه کی دعاء وغیره ووایی: **سوال**: (**۲۹۲۶**) ایا دجنازی په لمانځه کی به مقتدی دامام په تابع کیدلو سره ثناء او درود اودعاء برابر اداء کوی اوکه نه پرمقتدی باندی فقط خاموشوالی دی؟ دجنازی دلمانځه څخه چی فارغه سی نوپه همدغه هیئت په صفونوکی په پاته کیدلو سره یا دصفونو دهیئت دتغیر څخه وروسته دمړی په چاپیره دریدلو سره اوپه لاس پورته کیدلو سره دعاء کول اوپه دوباره او دریم بار همدغه رکم دعاء کول جائزدی اوکه نه؟ دحنفی مذهب مطابق دسند په ثبوت سره دی ارشاد وفرمایل سی، بعضو عالمانو په استناد دروایت دفتاوىٰ عالمګیری کم چی په فصل خامس ص ۱۷۰ مطبوعه مصر کی دی، والامام والقوم فیه ای فیما ذکر قبل من التکبیرات ودعاء الافتتاح والصلٰوة علی النبی ﷺ والدعاء وغیره ذالك كذا فی الكافی، **مقتدی ته یی** هم دمتابعت حکم ورکړی دی، او دلاندینی روایت په استناد سره یی ددعاء څخه منع کړیده، په خلاصة الفتاوىٰ قلمی کی دی، لا یقوم بالدعاء بعد صلٰوة الجنازة الخ، **ملا علی**

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ۸۳۲ ، ط. س. ج٢ ص ۲۳۰. ظفیر

(٢). الصلوة علی الجنازة فرض كفاية اذاقام به البعض واحدا كان اوجماعة ذكرا كان اوانثى سقط عن الباقين واذا ترك الكل اثموا هكذا فی التاتارخانية (عالمگیری مصری باب الجنائز فصل خامس ج١ ص ۴۵۲ ، ط. ماجديه ج١ ص ۱۲۲). ظفير

قاریؒ دمشكوٰة په شرح كی فرمايی، ولا يدعو للميت بعد صلوٰة الجنازة لانه يشبه الزيادة فی صلوٰة الجنازة، همدغه ركم په نور الانوار اوپه انوار حنفيه اوجامع الرموز اومحيط كی موجود دی، په دی روايتونو كی يی مطلقا دجنازی څخه وروسته دعاء ممنوع گرځولی ده برابره خبره ده كه دصفونو په هيئت كی وی اوكه نه وی، نوايا دادواړه استناده ددواړو مسئلو په باره كی صحيح دی؟

جواب: دادواړه استناده ددواړو مسئلو متعلق صحيح دی، دجنازی په لمانځه كی دی مقتدی هم دامام په شان ثناء اودرود اودعاء وايی اودجنازی څخه وروسته بيا په لاس لوړولو سره ددعاء غوښتل ثابت نه دی، اوفقهاؤ ددی څخه منع فرمايلی ده، اودملا علی قاریؒ په قول دجنازی په لمانځه كی دزياتوالی شبه ورسره كيږی اودجنازی لمونځ پخپله دمړی دپاره دعاء ده. فلا يشرع الدعاء الاخر بعدها. (نو ددی څخه وروسته بله دعاء مشروعه نه ده). فقط

دجنازی امامت دچا حق دی؟ سوال: (٢٩٢٧) يو حنفی سړی ديو جومات امام دی، هغه دعوه كوی اووايی چی زما څخه ماسوا دجنازی امامت بل څوك نه سی كولی، نوايا دغه سړی دمړی پرولی باندی هم مقدم دی، اودهغه دادعوه څنگه ده؟ او دجنازی په لمانځه كی احق بالامامت څوك دی؟

جواب: دحنفی فقه په كتابونو كی يی دجنازی دلمانځه په امامت كی داترتيب ليكلی دی، ويقدم فی الصلوٰة عليه السلطان ان حضر او نائبه وهو امير المصر ثم القاضی الخ ثم امام الحی الخ ثم الولی الخ ([1])، يعنی دجنازی دلمانځه دامامت دپاره دټولو څخه مقدم بادشاه دی، كه چيری موجود وی، يا دهغه نائب، بيا قاضی، بيا دمحلی دجومات امام الخ، درمختار، اوداهم په درمختاركی دی چی پرولی باندی دامام حی (يعنی دكلی دامام) تقديم استحبابا دی كه چيری دامام الحی په موجودگی كی ولی لمونځ وركی نو داهم درست دی ([2])، اوداهم په درمختار اوپه شامی كی دی، چی كه چيری ولی افضل وی دامام الحی څخه نودولی امامت اولی دی، بهر حال دامام مذكور دادعوه كمه چی په سوال كی ذكر ده مطلقًا (بلا تفصيل) غلطه ده ([3]). فقط

دزوال او استواء او دغروب په وخت كی دجنازی لمونځ درست دی او كه نه؟ سوال: (٢٩٢٨)

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٢٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٩. ظفير

([2]). وتقديم امام الحی مندوب فقط بشرط ان يكون افضل من الولی والا فالولی اولی كما فی المجتبیٰ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٥٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٠). ظفير

([3]). قال فی شرح المنية الاصل ان الحق فی الصلوة للولی الخ (ردالمحتار ص ٨٢٣ ، ط. س. ج٢ ص٢٢٠). ظفير

که چیری په وخت دطلوع او دغروب او داستواء کی جنازه حاضره سی نوپه دی وختونو کی دمباح وخت دانتظار څخه بغیر دجنازی لمونځ اداء کول جائزدی اوکه نه؟ اوبغیر دکراهت څخه جائز دی اوکه نه مع الکراهت؟

جواب: که چیری جنازه په دی وختونو کی حاضره سی نو دمباح وخت دانتظار څخه بغیر په دغه وختونوکی دجنازی لمونځ کول جائزدی بغیر دکراهت تحریمی اوپه شامی کی یی ویلی دی چی کراهت تنزیهی دی معنٰی داچی غیر اولٰی دی، یعنی ښه داده چی په مباح وخت کی لمونځ وکړی. فی الدر المختار فلو وجبنا فیها لم یکره فعلهما ای تحریمًا افاد ثبوت الکراهة التنزیهیة وفی التحفة مایدل علی نفی الکراهة التنزیهیة ایضا (¹). فقط

دجنازی دلمانځه څخه وروسته په لاس پورته کولو سره دعاء غوښتل څنګه دی؟ سوال:

(۲۹۲۹) دجنازی دلمانځه څخه وروسته په لاس پورته کولو سره دعاء غوښتل جائز دی اوکه نه؟ او مقتدیانو ته ددعاء غوښتل په کاردی اوکه نه؟

جواب: دجنازی لمونځ پخپله دمړی دپاره دعاء ده ددی څخه وروسته بله کمه دعاء ماثوره اومنقوله نه ده (²)، امام اومقتدیان ټول دي داترك کړی، ځکه چی دخلاف سنت کارالتزام درست نه دی.

دطاعون والاځای ته دجنازی دپاره تلل څنګه دی اودطبیبانو تلل درست دی اوکه نه؟ سوال:

(۲۹۳۰) په کم ځای کی چی طاعون وی هلته دجنازی دلمانځه ورکولو دپاره تلل درست دی اوکه نه؟ اوکله چی دهغه دتللو څخه بغیر دجنازی لمونځ نه کیږی، داسی ځای ته طبیبانو لره تلل څنګه دی؟

جواب: قال فی الدر المختار (مسائل شتٰی من اخر الکتاب واذا خرج (اودخل فیها، شامی) من بلدة بها الطاعون فان علم ان کل شيء بقدرة الله فلا باس بان یخرج ویدخل وان کان عنده انه لو خرج نجا ولو دخل ابتلٰی کره له ذلك فلا یدخل ولا یخرج صیانةً لاعتقاده وعلیه حمل النهی فی الحدیث الشریف، مجمع الفتاوٰی الخ (³) ددی عبارت څخه واضحه سوه چی دچا اعتقاد درست وی، دطاعون دځای څخه وتل سبب دنجات اوداخلیدل سبب دابتلاء اوهلاکت نه ګنی، نو دهغه په حق کی خروج اودخول ممنوع نه دی، اودجنازی لمونځ اداء کول خوفرض کفایی دی، دهغه

(¹). ردالمحتار کتاب الصلوة ج۱ ص ۳۴۷ ، ط. س. ج۲ ص ۳۷۴. ظفیر

(²). ویسلم بلا دعاء بعد الرابعة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص ۸۱۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۳) فقد صرحوا عن اخرهم بان صلاة الجنازة هی الدعاء للمیت اذهو المقصود منها (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰). ظفیر

(³). الدر المختار علی هامش ردالمحتار مسائل شتی ج۵ ص .... ، ط. س. ج۲ ص ۷۵۷. ظفیر

دپاره هلته دلمانځه داداء کولو په غرض تلل ضروري دي کله چې هغه ته معلومه ده چې که چیرې ولاړ نه سم نودجنازې لمونځ به نه کیږي همدغه رکم طبیبانو لره هم دعلاج په غرض هلته تلل درست دي.

که بعض خلک جنازه ونه کړي نوڅه حکم دي؟ **سوال**: (۲۹۳۱) په اتفاقي ډول سره یوه نابالغه انجلي وفات سوه اودجنازې دلمانځه دپاره ټول خلک راجمعه سول، اوهغه علماء هم راجمع سول چې چا دپردې تنبیه کړې وه لیکن جنازې ته حاضر سول اولمونځ یې ونه کې بیرته راغللو په دې صورة کې څه حکم دي؟

جواب: دجنازې لمونځ دبالغ اونابالغه فرض کفایي دي، دبعضو په اداء سره دباقیو دذمې څخه فرضیت ساقط کیږي، نوکه چیرې ددغه نابالغې دجنازې لمونځ سوی وي، نوهغه خلګ چاچې دجنازې په لمانځه کې شرکت ونه کې ګنهګارنه دي، اوکه چیرې ددغه نابالغې دجنازې لمونځ بالکل نه وي سوی نوکم خلګ چې موجود وه، اوچاته چې دهغه دمرګ علم سوی وو، اودجنازې لمونځ یې ونه کې نوهغوی ټول ګنهګار سول، قال فی الدر المختار والصلاة علیه صفتها فرض کفایة الخ (۱)، وأما شروط وجوبها فهي شروط بقیة الصلوات من القدرة والعقل والبلوغ والإسلام مع زیادة العلم بموته تأمل ش وهی فرض علی کل مسلم مات خلا أربعة بغاة وقطاع طریق الخ (۲) اوښکاره ده چې کم قومونه پرده نه کوي په دې څلورو کې داخل نه دي، خصوصاً نابالغه چې هغه مکلف دپردې نه دي، نو دهغه دجنازې لمونځ ترك کول نهایتي قبیح دي، اوحضور ﷺ فرمایلي دي، صلوا علی کل بر وفاجر، الحدیث.

دکمو خلکو چې دجنازې لمونځ نه وي زده نوپه صرف اقتداء اوتکبیر سره به یې لمونځ وسي؟

سوال: (۲۹۳۲) که چیرې مقتدي دجنازې په لمانځه کې په وجه دناپوهي یاپه وجه دهیر والی ثناء اودرود اودعاء ونه وایي، فقط دامام سره داقتداء دنیت څخه وروسته څلور تکبیرونه ووایي نودهغه لمونځ به دضرورت په وجه په شان دلمانځه دمسبوق صحیح سي اوکه نه؟

جواب: قال فی الدر المختار فی الصلٰوة الجنازة ورکنها شیئان التکبیرات الاربع والقیام الخ، (۳) نومعلومه سوه چې بناءً علی هذه الروایة لمونځ دهغه صحیح دي، وانظر ما قال الشامی بتحقیق ما قاله المحقق ابن الهمام رحمه الله .

(۱). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۷. ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰. ظفیر

(۳). ایضا ج۱ ص ۸۱۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۹. ظفیر

دشیعه دجنازي لمونځ درست دي اوکه نه؟ سوال: (۲۹۳۳) اهل سنت والجماعت ته دشیعه مړي دجنازي لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

جواب: کم شیعه ګان چي غلو کونکی دی دکمو چي تکفیر سوی دی، دهغوی دجنازی لمونځ کول نه دی په کار، څنګه چي تبرا کونکی دی دهغوی لمونځ دي ونه سی.

دجومات په سائبان کی جنازه درسته ده اوکه نه؟ سوال: (۲۹۳۴) په کم جومات کی چي پنځه وخته لمونځ کیږی په هغه جومات کی دننه یاپه سائبان کی که چیری مړی کښیږدی اودجنازي لمونځ وکی نولمونځ کیږی اوکه نه؟ اوکه چیری په قبرستان کی جومات وی اوپه هغه کی پنځه وخته لمونځ نه کیږی اوهغه دجنازي دلمانځه دپاره جوړ سویدی نوپه دغه جومات کی دجنازي لمونځ جائزدی اوکه نه؟

جواب: په جومات کی دجنازي لمونځ مکروه دی لکه څنګه چي په درمختار کی دی، وکراهة تحریمًا وقیل تنزیهاً فی مسجد جماعة هو ای المیت فیه وحده اومع القوم (۱)، اوکم جومات چي دجنازي دلمانځه دپاره جوړ سوی دی هغه په حقیقت کی دجومات په حکم کی نه دی په هغه کی دجنازي لمونځ درست دی، کمافی الدر المختار واما المتخذ لصلوة جنازة اوعید فهو مسجد فی جواز الاقتداء لافی حق غیره به یفتٰی، نهایه الخ (۲)،

پرغائب مړی باندی دجنازي لمونځ درست نه دی: **سوال**: (۲۹۳۵) په غائب مړی باندی دجنازي لمونځ صحیح دی اوکه نه؟

جواب: په غائب مړی باندی داحنافو په نزد دجنازي لمونځ صحیح نه دی. (۳)

که چیری دبدن یوه حصه سوزلی وی نو ایا هغه ته به غسل ورکول کیږی، اوجنازه به باندی کیږی اوکه نه؟ سوال: (۲۹۳۶) په کورکی داور لګیدلو په وجه سره که چیری دمړی اکثره حصه وسوزله اوکمه چي باقی وی هغه هم دسکرو په شان توره سوی وی مخ یی نه وی، نوهغه لره غسل اوکفن ورکول سی اولمونځ ورباندی وسی اوکه نه؟ دغسل وغیره دجواز په صورة کی که چیری دجومات امام دغه برایی نام لاش همداسی په کپړه کی ونغاړی او دفن یی کړی نوپه لمانځه کی دهغه داقتداء څه حکم دی؟ په صورة دعدم جواز دغسل او دکفن اوجنازي کی کم امام چي بغیر دغسل او دکفن او دلمانځه څخه پورته ذکر سوی

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۴-۲۲۵. ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ما یفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب فی احکام المسجد ج۱ ص ۷۱۵ ، ط. س. ج۱ ص ۶۵۷. ظفیر

(۳). فلا تصح علی غائب ومحمول علی دابة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۹). ظفیر

لاش دفن کړی، اویو سړی دخودغرضی اودشرارت په وجهی سره خامخا دامام په عوامو کی په ذلیل اورسوا کولو پسی لګیدلی وی نو دهغه سزا څه ده؟

جواب: مسئله په دی باره کی داده چی که چیری دمړی اکثره حصه باقی وی، یعنی دنیم څخه زیاته باقی وی، که څه هم دسر څخه بغیر باقی وی نوهغه لره دي غسل ورکول سی، اولمونځ دي باندی وسی، اوکه چیری دمړی دبدن زیاته حصه سوزلی اواره سوی وی او کمه حصه یی باقی وی، نوبیا غسل اولمونځ هیڅ ورباندی لازم نه دی، په در مختار کی دی، وجد رأس ادمی او احد شقیه لا یغسل ولا یصلی علیه بل یدفن الا ان یوجد اکثره من نصفه اوبلا رأس الخ (۱)، نوکله چی ددغه مړی اکثره حصه دسوزلو سره ایره سوله نوغسل اولمونځ دهغه واجب نه دی اوهمداسی دفن کول یی په کار دی، اوکم امام چی داسی وکړل چی په ذکر سوی وجه یی بی غسله اوبی لمونځه پټ کی، نوپه هغه باندی هیڅ مؤاخذه نسته، اودهغه په امامت کی هیڅ څه خلل اوکراهت نسته، اودهغه پرفعل باندی اعتراض کول که چیری دخودغرضی اودعداوت په وجه وی نوسخته ګناه اومعصیت دی ددی څخه دي توبه وکاږی، اوکه چیری دناپوهی په وجه سره وی نوبیا معذوره دی، لیکن جاهل لره په کاردی چی دیو عالم څخه پوښتنه وکړی پخپله څه حکم لګول نه دی په کار، فانما شفاء العی السوال، یعنی دجهالت څخه شفاء پوښتنه کول دی دپوهه لرونکو څخه. قال الله تعالٰی فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون (۲). فقط

<u>دبنګیانو دجنازی لمونځ درست دی اوکه نه؟</u> سوال: (۲۹۳۷) دبنګیانو دجنازی لمونځ او نکاح جائزه ده اوکه نه؟

جواب: جائز نه ده مسلمانان دي ددی څخه ځان وساتی (۳).

<u>دتعزیت په ورځوکی دصاحب تعزیت دکور څخه دموړی خوړل څنګه دی؟</u> سوال: (۲۹۳۸) دتعزیت په ورځوکی دمړی دکور والاوو څخه خوراك او څښاك کول جائزدی اوکه نه؟ په کشمیر کی یی عام مسلمانان مساوی ګڼی، قال فی الدر المختار ویحل لمن طال مقامه او مسافة لا لمن لم یطل، مسئله مذکوره مفتٰی به ده اوکه نه؟

جواب: علامه شامی په دی ځای کی فرمایلی دی: اقول قدمنا ان القول الاول وهو الاصح وظاهره الاطلاق، ویؤیده ما فی اخر الجنائز من فتح القدیر حیث قال ویکره اتخاذ الضیافة من الطعام

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۰۴ ط. س. ج۱ ص ۲۰۰. ظفیر

(۲). سورة النحل .

(۳). والصلاة علیه فرض کفایة ... وشرطها ستة : اسلام المیت وطهارته (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۷). ظفیر

من أهل الميت لانه شرع في السرور لا في الشرور، وهي بدعة مستقبحة. الخ ([1]). **نو معلومه سوه چي حکم د:** ويحل لمن طال مقامه الخ، پرغير اصح قول باندی متفرع دی اودعلامه صاحب دفتح القدير دتصريح مطابق اتخاذ طعام مکروه اوبدعت مستقبحه دی. فقط

دجنازی په لمانځه کی بين الصفوف فاصله: سوال: (۲۹۳۹) دجنازی په لمانځه کی دصفونو تر مينځه څومره ليری والی لازمی دی؟

جواب: دجنازی دلمانځه دصفونو ترمينځ دزياتی فاصلی پريښوولو ضرورت نسته بلکی نژدی نژدی صفونه جوړول په کاردی ([2]). فقط

دحضور ﷺ پرنجاشي باندي غائبانه دجنازي لمونځ: سوال: (۲۹۴۰) دجنازی لمونځ غائبانه کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: غائبانه دجنازی لمونځ کول درست نه دی اوحضور ﷺ چی دنجاشی دجنازی لمونځ غائبانه کړی وو، نو دنجاشی جنازه ورته مخامخ سوی وه، يا دا دحضور ﷺ خصوصيت وو، دنورو دپاره داجائز نه دی. کذا فی الدر المختار ([3]). فقط

که چيري ددريم تکبير څخه وروسته سورة فاتحه وويل سی نوڅه حکم دی، ددعاء په ځای يا رب يا رب کافي نه دي: سوال: (۲۹۴۱) که چيری دجنازی په لمانځه کی ددعاء پرځای سورة فاتحه په نيت ددعاء وويل سی، نوداحنافو په نزد بغير دکراهت څخه جائزدی اوکه نه؟ بالتصريح تحرير وفرماياست؟ اوکه چيری ددريم تکبير څخه وروسته ددعاء په ځای لفظ ديارب يارب وويل سی، نوددعاء کاربه ورکړی اوکه نه؟ په يو کتاب کی يی ددی متعلق څه ليکلی دی اوکه نه؟

جواب: سورة فاتحه ددعاء په نيت داحنافو په نزد مکروه نه ده دقرآن پاك دقرآئت په نيت يی ويل مکروه دی اوموقع دسورة فاتحی داولنی تکبير څخه وروسته ده ([4])، والظاهر انها حينئذ تقوم بعد الثناء على ظاهر الرواية من انه ليس بعد الاولٰى التحميد الخ، شامی ([5]) **نو دتکبير**

([1]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۱ – ۸۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۰. ظفير

([2]). ځکه چي په دی کی دسجدی وغيره ضرورت نه وی چی په مينځ کی يې دکافی فاصلی ضرورت راسی. ظفير

([3]). فلا تصح على غائب الخ وصلاة النبي ﷺ على النجاشي لغوية وخصوصية (درمختار) قوله: لغوية أي المراد بها مجرد الدعاء وهو بعيد. قوله: (أو خصوصية) أو رفع سريره حتى رآه عليه الصلاة والسلام بحضرته فتكون صلاة من خلفه على ميت يراه الامام وبحضرته دون المأمومين، وهذا غير مانع من الاقتداء. (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۳ ، ط. س. ج۲ ص۲۰۹). ظفير

([4]). وعين الشافعي الفاتحة في الاولى وعندنا تجوز بنية الدعاء وتكره بنية القراءة لعدم ثبوتها فيها عنه ﷺ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۷، ط. س. ج۲ ص ۲۱۳ و۲۱۴). ظفير

([5]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۷ ، ط. س. ج۲ ص۲۱۳ و۲۱۴ ظفير

ثالث څخه وروسته ددی محل نه سته. فقط. كه چيري هغه دعاء ماثوره ورته ياده نه وی نوددريم تكبير څخه وروسته دی اللهم اغفرلنا ۔۔ څنګه چی سابقا دشامی څخه نقل سوی وو، (۱) (ويل يی په كاردی) اوپه يارب يارب باندی اكتفاء كول په كم كتاب كی نه دی ليدل سوی، اوددی سره به دجنازی لمونځ كه څه هم وسی، ليكن ددعاء سنت به اداء نه سی، قال فی الشامی: قوله: ويدعوا بعد الثالثة ای لنفسه وللميت وللمسلمين لكی يغفر له فيستجاب دعاءه فی حق غيره ولان من سنة الدعاء ان يبدأ بنفسه قال تعالٰی: رب اغفر لی ولوالدیّ الخ (۲). فقط

دجنازي دلمانځه تركيب څه دی؟ اومقتدی به څه څه وايي؟ سوال: (۲۹۴۲) زموږ په ځای كی دجنازی په لمانځه كی چی كله امام دالله اكبر په ويلو سره نيت وتړی، بياچی كله دتحميد ويلو څخه وروسته امام الله اكبر ووايی نومقتديان يی په اشاری سره وايی، بيا امام ددرود شريف ويلو څخه وروسته دالله اكبر ويلو سره كه چيری مړی بالغ وی يانابالغ اومذكر وی اوكه مونث، كمه دعاء چی ويل وی هغه ووايی، نو دالله اكبر دويلو څخه وروسته سلام وګرځوی، همدغه ركم مقتديان يی ورسره هم كوی، په دی طريقی سره دجنازی لمونځ كول اودمقتديانوماسوادالله اكبر دويلوڅخه نورڅه نه ويل جائزدی اوكه؟

جواب: دجنازی په لمانځه كی په څلور تكبيرونو كی داول تكبير څخه وروسته دسبحانك اللهم ويل پەكاردی‌اوددوهم تكبيرڅخه وروسته درودشريف اوددريم تكبيرڅخه وروسته ماثوره دعاء كمه چی په كتابونو كی ليكل سويده ويل په كاردی، اودڅلورم تكبير څخه وروسته دسلام ګرځول په كاردی اودا ټول افعال امام اومقتديانو ټولو لره كول په كار دی، مقتديان دي هم دامام سره سره چی څه امام وايی نودوی دي هم وايی (۳) البته چاته چی دعاء ماثوره ياده نه وی هغه دي دهغه په ځای اللهم اغفرلنا ولوالدينا وللمؤمنين والمؤمنات ووايی. (۴) فقط

دفاجري ښځی دجنازی لمونځ كول درست دی: سوال: (۲۹۴۳) يوه ښځه تش په نامه مسلمانه ديو هندو سړی ماندينه جوړه سوی وه او ترڅو كالو پوری دهغه سره همبستره

---

(۱). ثم افاد ان من لم يحسن الدعاء بالماثور يقول اللهم اغفرلنا ولوالدينا وله وللمومنين والمؤمنات (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۲). ظفير

(۲). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۲. ظفير

(۳). وهی اربع تكبيرات ۔۔ فيكبر للافتتاح ويقول سبحانك اللهم ۔۔ ثم يكبر اخری ويصلی علی النبی ﷺ ثم يكبر اخری ويدعو للميت وجميع المسلمين ۔۔ وليس بعد التكبيرة الرابعة قبل السلام دعاء ۔۔ والامام والقوم فيه سواء (عالمگيری مصری باب حادی عشر ج۱ ص ۱۵۴ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۴). ظفير

(۴). فان لا يحسن ياتی بای دعاء شاء ثم يكبر رابعة (ايضاً) ثم افاد ان من لم يسحن الدعاء بالماثور يقول: اللهم اغفر لنا ولوالدينا وله وللمؤمنين والمؤمنات (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص۸۱۲، ط. س. ج۲ ص۲۱۲).

اوسيدله اوپه شرابو اوكبابو اوپه كفر او شرك كی څنگه چی په هندوانو كی رواج دی مبتلا وه چی په هم دی دوران كی هغه مړه سوه، هيڅ يوه مسلمان دهغې جنازه ونه كړه، يومياجی چی ځان ته قاضی هم وايی دنفسانی طمعی په وجهی سره يی دهغې جنازه وكړه، نو دداسی سړی دپاره څه حكم دی؟

جواب: زناكاری دكافر او دمسلمان سره گناه كبيره ده، همدغه ركم دشرابو چښل قطعًا حرام دی، ددی كارونو مرتكب فاسق دی، كافر نه دی اوكه چيری بتانو ته دهغې عبادت ثابت سی، نوبيايی دجنازی لمونځ نه وو په كار ([1])، دا دهغه مياجی څخه غلطی وسوه او خطاء وسوه، توبه دي وكاږی، ليكن هغه كافر نسو لهذا نكاح يی فسخ نه سوه، اوكه چيری ددغه مسلمانی ښځی بتانو ته عبادت كول ثابت نه وی صرف قياس اوپه گمان سره داسی ويل سوی وی نوبيا دهغې دجنازی لمونځ كول په كار وو، لقوله ﷺ صلوا علی كل بر وفاجر، الحديث، يعنی دهريو نيك اودبد دجنازی لمونځ كوی. ([2]) فقط

دوباره دجنازی لمونځ كول گناه ده اوكه نه؟ سوال: (٢٩٤٤\١) په يوه كلی كی ديوه مسلمان مړی جنازه وسوه، نوچی كله هغه بل كلی ته يوسی چيری چی دهغه سكونت وو نوكه دهغه ځای مسلمانان دهمدردی په وجه دوباره دجنازی لمونځ باندی وكی كم چی نا مشروع دی، نوپر دوباره جنازه كوونكو باندی گناه لازميږی اوكه نه؟ كه گناه وی نو صغيره ده اوكه كبيره اوكه يا دثواب مستحق گرځی؟

دجنازی سره دنعت ويل بدعت دی؟ سوال: (٢٩٤٥\٢) دمسلمان دجنازی سره درسول الله ﷺ نعت ويل څنگه دی؟

جواب: \١ دجنازی لمونځ دوباره كول غير مشروع اوناجائز دی اوښكاره ده چی دغير مشروع فعل اودحرامو مرتكب گنهگار وی، نه چی مستحق دثواب وی، او حرام فعل گناه كبيره ده، ولا يصلی علی ميت الا مرة واحدة والتنفل بصلٰوة الجنازة غير مشروع الخ ([3]).

\٢: دجنازی سره اشعار نعتونه وغيره ويل غير مشروع اوبدعت دی پريښوول يی لازم دی ([4]). فقط

([1]). وشرطها اسلام الميت وطهارته الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنازة ج١ ص ٨١١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٧). ظفير

([2]). وهی فرض علی كل مسلم مات خلا اربعة بغاة وقطاع الطريق الخ (ايضا ج١ ص ٨١٤ ط. س. ج٢ ص ٢١٠).

([3]). عالمگيری مصری باب حادی عشر فی الجنائز فصل خامس ج١ ص ١٥٣ ، ط. م. ج٢ ص ٣٢٣. ظفير

([4]). وعلی متبعی الجنازة الصمت ويكره لهم رفع الصوت بالذكر وقرآءة القرآن (عالمگيری باب حادی عشر فی الجنائز فصل رابع ج١ ص ١٥٢ ، ط. م. ج٢ ص ١٢٢). ظفير

که دماشوم په جنازه کی معلومه نه وی چی هلک دی اوکه انجلی نوڅه به کوی؟ سوال: (۲۹۴۶) دماشوم په جنازه کی کله چی مسبوق ته معلومه نه وی چی مړی هلك دی اوکه انجلی نودهغه دپاره دي کمه دعاء ووایی؟

جواب: اللهم اجعله لنا فرطًا، دی په ضمیر دمذکر سره ووایی ځکه چی دمؤنث طرف ته هم په تاویل دشخص راجع کیدی سی، اوپه ضمیر دمؤنث ویل یی هم درست دی په تاویل دنفس سره ([1]). فقط

که یو هندو کفن ورکړی نوڅه حکم یی دی؟ سوال: (۲۹۴۷) یومسلمان وفات سو دهغه دکفن قیمت دهغه یو هندو دوست ورکی نوپه دی کی خوبه څه خرابی نه وی؟

جواب: هیڅ خرابی نسته.

دجنازی دلمانځه دپاره په قبرستان کی په کور جوړولو کی څه بدیت نسته: سوال: (۲۹۴۸) دجنازی دلمانځه دپاره په قبرستان کی کور جوړول اوپه هغه کی جنازه کول، اودمړی ددفن کولو په وخت کی هلته کښېنستل جائزدی اوکه نه؟ اوپه دی کی تشبه ممنوع سته اوکه نه؟

جواب: که چیری محضی دجنازی دلمونځ کولو دپاره اوپه باران وغیره کی دناستی دپاره یوکور په قبرستان کی جوړسی نوپه دی کی څه حرج نسته، اوپه دی کی هیڅ څه تشبه ممنوع نسته، لیکن په قبرستان کی دجنازی دلمانځه دجواز دپاره داضروری دی چی مخامخ ورته قبرونه نه وی اوښه داده چی دجنازی لمونځ په بل ځای کی وکی ([2]). فقط

په جنازی پسی تهلیل وغیره درست نه دی: سوال: (۲۹۴۹) په جنازه پسی ذکر لکه تهلیل او دسورة ملك ویل وغیره څنګه دی؟

جواب: داثابت نه دی اوپه اجتماعی هیئت سره بالجهر داسی کول دسلفو صالحینو دعمل څخه خلاف دی، لهذا دا دي ترك سی ([3]).

دجنازی په لمانځه کی دنابالغه امامت: سوال: (۲۹۵۰) په نابالغه پسی دجنازی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی، ولا یصح اقتداء رجل بامرأة وخنثیٰ وصبی مطلقا ولو فی جنازة ونقل

([1]). ولایستغفر للصبی ولکن یقول اللهم اجعله لنا اجرا الخ (هدایه باب الجنائز فصل ج۱ ص ۱۲۳). ظفیر

([2]). ولا باس بالصلوة فیها (ای فی المقبرة) موضع اعد للصلوة ولیس فیه قبر ولا نجاسة کما فی الخانیة ولا قبلة الی قبر، حلیه (ردالمحتار کتاب الصلاة قبیل مطلب فی الصلاة فی الارض المغصوبة ج۱ ص .... ، ط. س. ج۱ ص ۳۸۰).

([3]). کره کما کره فیها رفع صوت بذکر اوقرآئت (درمختار) وینبغی لمن تبع الجنازة ان یطیل الصمت وفیه عن الظهیریة فان اراد ان یذکر الله تعالی فی نفسه الخ (ردالمحتار باب صلاة الجنازة ج۱ ص ۸۳۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۳).

على الاصح ([1]). ددی ځخه معلومه سوه چی په نابالغه پسی دجنازی لمونځ صحیح نه دی.

دجنازی دلمانځه څخه وروسته دعاء: سوال: (٢٩٥١) فی الدعاء بعد صلٰوة الجنازة رفع اليدين وقد وقع الاختلاف بين العلماء فمنهم من قال انه سنة حسنة وتاركه فاسق وفاجر وفيهم من قال انه مكروه بينوا وتؤجروا؟

جواب: قال فی الشامی فقد صرحوا عن اخرهم بان صلٰوة الجنازة هی الدعاء للميت اذ هو المقصود الخ ([2])، ولم يرو عن السلف الدعاء بعدها بهيئة اجتماعية فالاولٰى الاقتصار عليها وان لم يفسق فاعله وكيف يجوز ان يقال لتارك البدعة انه فاسق من ينسبه الى الفسق.

دكتاب په كتلو سره دجنازی لمونځ: سوال: (٢٩٥٢) يوځو مسلمانان كتاب ګوری او د جنازی لمونځ كوی نودا جائز دی اوكه نه؟

جواب: په دی طريقی سره دجنازی لمونځ نه كيږی، كه چيری چاته دعاء ګانی يادی نه وی نو صرف تكبيرونه دي ووايی، اودامام سره دي سلام وګرځوی، چی كتاب ته ګوری او دعاء وايی نولمونځ يی نه كيږی ،كما فی الشامی ([3]) واما الشروط التی ترجع الى المصلی فهی شروط بقية الصلٰوة الخ ج١ ص ٥٨٢).

كم هندو ماشوم چی مسلمان په بيعه واخيستی، دهغه جنازه اوكفن درست نه دی: سوال: (٢٩٥٣) يوی كافری ښځی خپل دځلورو مياشتنو ماشوم دلسو روپو په عوض پريوه مسلمان باندی خرڅ كی، څوارلس ورځی وروسته ماشوم مړ سو، دغه مسلمان دهغه دجنازی لمونځ وكی، په دی صورة كی پرلمانځه كونكی اوپر امامتی كونكی باندی شرعًا حكم څه دی؟ او دانسان خرڅول په هندوستان كی جائز دی اوكه نه؟

جواب: په دی صورة كی ددغه ماشوم دجنازی لمونځ درست نه وو، كله چی دهغه مور او پلار كافران وه، البته كه چيری په مور اوپلار كی يو مسلمان سوی وی نودهغه دجنازی لمونځ واجب وو، اوددغه ماشوم په بيعه اخيستل صحيح نه وو، ددغه مسلمان څخه دغه فعل دجهالت په وجه واقع سو اوپه آئنده كی دي دغه ركم نه كوی اوپه دغه فعل سره چی كمه ګناه وسوه دهغه څخه دی توبه وكاږی، قال فی الدر المختار كصبی سبی مع احد ابويه لا يصلی عليه الخ ([4]).

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج١ ص ٥٣٩ ، ط. س. ج١ ص ٥٧٢ و٥٧٨. ظفير
([2]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨١۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٠. ظفير
([3]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی صلاة الجنائز ج١ ص ٨١١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٧. ظفير
([4]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٨ و٢٢٩. ظفير

ایا د جنازي په لمانځه کي پنځه تکبيرونه جائز دي؟ سوال: (۲۹۵۴) دجنازي په لمانځه کي پنځه تکبيرونه جائزدي اوکه نه؟

جواب: پنځه تکبيرونه دجنازي په لمانځه کي جائزنه دي ځکه چي هغه منسوخ سوي دي، دڅلور څخه زيات تکبيرونه دي نه وايي که څه هم امام زيات هم ووايي بيادي هم دهغه اتباع نه کوي، اوخاموش دي ولاړ اوسي په در مختار کي دي: ولو کبر امامه خمسًا لم يتبع لانه منسوخ فيمکث المؤتم حتٰی يسلم معه اذا سلم به يفتٰی (۱). فقط

دبدعتيانو جنازه کول په کاردي: سوال: (۲۹۵۵) ددي علاقو جاهلان مسلمانان دکافرانو په رسمونوکي مبتلادي اودکافرانوعادتونه اورواجونه کوي ليکن کلمه هم وايي اوځانته مسلمانان وايي نودوي کافران دي اوکه نه؟ اوددوي جنازه کول په کاردي اوکه نه؟

جواب: کم جاهلان مسلمانان چي دکافرو په رواجونو کي مبتلا دي اوعادتونه اورسمونه دکافرانو کوي ليکن کلمه وايي اوخپل ځان ته مسلمانان وايي، نوهغوي ته کافر ويل نه دي په کار، اودهغوي دجنازي لمونځ کول پکاردي اودهغوي اصلاح کول په کاردي.

يوهندو اويو مسلمان په يوکور کي وسوزيدل جنازه به څنګه اداء کوي: سوال: (۲۹۵۶) چي په يو کورکي دوه کسان اوسيږي يو پکښي هندو وي اوبل مسلمان، اوپه دغه کور کي اور ولګيدي اودواړه کسان پکښي داسي وسوزيدل چي غوښه اوڅرمن يي پاته نه سول اوخپل وارثان يي په څه علامي سره شناخت هم نسي کولي چي کم يو هندو دي اوکم يو مسلمان دي، ددواړو وارثان پردي باندي متفق دي چي که چيري شناخت يي وسي نو دهر يوه تجهيز اوتکفين به دخپل خپل دين مطابق وسي، نودشريعت ترمخه موږ ته داسي يوه علامه وښاياست چي څه شك باقي پاته نه سي؟

جواب: په مسئوله صورة کي کله چي دشناخت هيڅ علامه باقي نه ده پاته نو دهغوي دتجهيز اودتکفين اودجنازي په باره کي شرعًا داحکم دي چي دغه دواړو لره دي غسل ورکول سي که چيري هغوي دغسل قابل وي اودواړو ته دي کفن ورکول سي اودجنازي لمونځ دي دمسلمان دجنازي دلمانځه په نيت وسي اودکافر په نيت دي ونه سي، هکذا فصله وحققه فی الشامی کتاب الجنائز اقول بتوفيق الله قال فی الدر المختار: اختلط موتانا بکفار، ولا علامة اعتبر الاکثر فإن استووا غسلوا واختلف في الصلاة عليهم قال الشامی بعدذکر التفصيل عن شرح مختصر الطحاوی للاسبيجابی فی قوله اعتبر الاکثر لکن يغسلون ويکفنون الخ ثم قال قوله: واختلف في الصلاة عليهم فقيل لا يصلی عليهم، الی ان قال: وقيل يصلی عليهم ويقصد المسلمين الخ (۲).

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۴. ظفير

شرابي زاني دجنازي دشركت څخه بندول نه دي په كار: سوال: (۲۹۵۷) يوسړى دى شارب الخمر دغلا مال خوړونكى اوزاني اوتارك الصلٰوة اومانع الزكوٰة، نودغه سړى دمسلمان په جنازه كى دشركت څخه منع سى كه نه؟ اوخوراك څښاك ورسره په كاردى اوكه نه؟ يو مولوى صاحب داسى سړى دجنازى څخه وايستى او بيايى جنازه وكړه، اودغه مولوى جنازى ته دعاء وايى، ليكن يوبل مولوى جنازى ته عبادت وايى اوفتوٰى وركوى چى دغه سړى دجنازى اودنورو عباداتو څخه منع كول نه دى په كار، نوايا صلٰوة جنازه دعاء ده اوكه عبادت؟ اوپه دى صورة كى شرعى حكم څه دى؟

جواب: صلٰوة جنازه لمونځ هم دى اودعاء هم ده اوعبادت كيدل يې هم ظاهردى، ځكه چى صلاةِ جنازه فرض كفايه دى، نوكم كار چى فرض وى هغه به څنگه عبادت نه وى، عبادت كيدل يې تر لمر هم ښكاره دى، اودفرضو ادا كولو څخه ديو مسلمان راگرځول جائز نه دى، اگركه هغه فاسق اومرتكب دكبيرو گناهونو هم وى لكه غلا، زنا اوشراب څښل وغيره، ځكه نو ددغه شخص راگرځول دلمانځه دجنازې دادا كولو اونورو عباداتونو څخه جائز نه دى، اوكه چيرى هغه مړسى نو دهغه دجنازى لمونځ هم مسلمانانو لره كول په كاردى، لقوله ﷺ صلوا على كل بر وفاجر الحديث. (۱) فقط

پركټ باندى دايښوول سوى جنازى لمونځ درست دى اوكه نه؟ سوال: (۲۹۵۸) دجنازى دلمانځه كول په هغه مړى باندى چى ايښوول سوى وى په كټ باندى جائزدى اوكه نه؟

جواب: دبل ځاى څخه جائزدى بلكى اولى دى، داركم دى قياس پرحالت دوړلو، فى الدر المختار وان كان كبيراً حمل على الجنازة انتهٰى، شيخ ابن همام رحمہ اللہ تصريح كړيده چى دحضور ﷺ دجنازى لمونځ دحضرت معاويه مزنى رضی اللہ عنہ پركټ باندى سوى دى، اوهم شيخ ممدوح په حاشيه دهدايى فى فصل الصلٰوة على الميت كى راوړى دى: وَأَمَّا صَلَاتُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى النَّجَاشِيِّ فَلِأَنَّهُ رَفَعَ سَرِيرَهُ لَهُ حَتَّى رَآهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِحَضْرَتِهِ فَتَكُونُ صَلَاةُ مَنْ خَلْفِهِ عَلَى مَيِّتٍ يَرَاهُ الْإِمَامُ وَبِحَضْرَتِهِ دُونَ الْمَأْمُومِينَ وَهَذَا غَيْرُ مَانِعٍ مِنْ الِاقْتِدَاءِ، انتهٰى (۲)، وفى حواشى الكنز: ثم المراد بالمكان الذى اشترطت طهارته اما الجنازة او الارض ان لم يكن جنازة فطهارة الارض تشترط اذا وضع الميت بدون الجنازة اما بالجنازة فعدم اشتراط طهارة الارض متفق عليه (۳) انتهٰى. اوجنازه دميت

[حاشيه صفحه سابقه] (۲). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج ۱ ص ۸۰۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۰ - ۲۰۱. ظفير

(۱). فعلى المسلمين تكفينه ... والصلاة عليه صفتها فرض كفاية بالاجماع فيكفر منكرها لانه انكر الاجماع (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فى صلاة الجنازة ج۱ ص ۸۱۱، ط. س. ج۲ ص ۲۰۲-۲۰۷). ظ

(۲). ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فى صلاة الجنازة ج۱ ص ۸۱۱، ط. س. ج۲ ص ۲۰۲ - ۲۰۷ . ظفير

کتې ته وايي، په انواع دبارك الله کی یی راوړی دی په ترمذی شریف باب ماجاء ان یقوم الامام من الرجل والمراة کی راوړی دی، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُنِيرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَامِرٍ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي غَالِبٍ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَلَى جَنَازَةِ رَجُلٍ فَقَامَ حِيَالَ رَأْسِهِ ثُمَّ جَاءُوا بِجَنَازَةِ امْرَأَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَقَالُوا يَا أَبَا حَمْزَةَ صَلِّ عَلَيْهَا فَقَامَ حِيَالَ وَسَطِ السَّرِيرِ فَقَالَ لَهُ الْعَلَاءُ بْنُ زِيَادٍ هَكَذَا رَأَيْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْجَنَازَةِ مُقَامَكَ مِنْهَا وَمِنَ الرَّجُلِ مُقَامَكَ مِنْهُ قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ احْفَظُوا. (۱)

اوهغه کسان چی حکم اوفتوٰی ورکوی چی مړی دکټ څخه کښته کړی اوپرمځکه باندی کښیږدی اوجنازه دي وسی شاید چی دامغالطه دعبارت دبعضو فقهاء دقوم څخه وی چی عبارات مبهمه اوموهمه یی راوړی دی لکه: وضعه ای علی الارض اوعلی الایدی قریبا منه بالاعلٰی محمول علی دابة اوغیرها لاختلاف المکان بالمیت کالامام، حالانکی مراد دوضع علی الارض څخه عام دی ددی څخه چی حقیقةً وی اوکه حکماً وی، اومراد دمحمول دغیر دابه څخه هغه دی چی مړی محمول وی په یوجانداره حیوان چی هغه پر مزکه باندی نه وی اینښوول سوی لکه چی مړی پر دابه باندی وی چی هغه په غوایانو یا په خرو یاپه سپیو باندی وړی یا دخلګو پراوږو باندی وی چی هغه پرمځکه باندی نه ایږدی، اومړی چی په مثل دامام وایی، مثل کیدل یې په بعضو وجوهو کی مراد دی، نه من جمیع الوجوه، که دانه وی مراد نوسړی ته به دجنازی لمونځ دښځو او دماشومانو جائزنه وای، ځکه چی امامت دښځی اودماشوم دسړیو دپاره هیڅکله نه درست کیږی.

فی الکبیری: هوکالامام من بعض الوجوه انتهی، قال مفتی السند العلامة الهمایونی نوّر الله مضجعه فی فتاواه المراد بوضع المیت علی الارض اعم من ان یکون حقیقةً او حکماً اما الوضع الحقیقی فکما اذا کان نفس المیت موضوعاً علی الارض واما وضع الحکمی فکما اذا کان سریر المیت موضوعاً علی الارض ووزان السریر مع المیت وزان الکوز مع الماء ووزان الصندوق مع المتاع ووزان الحقة مع الدرة فاذا وضع الکوز او الصندوق علی شیء فالوضع وان تعلق حقیقة بالکوز والصندوق لکنه تعلق بالماء والمتاع ایضاً حکماً ولذا تری العلماء ینسبون السرعة والوضع عن الاعناق علی المیت وان تعلق حقیقة بالسریر. قال العلامة العینی فی شرح الکنز فی فصل الصلٰوة علی المیت ویعجل به ای یسرع بالمیت وقت المشی بحدیث لا یضطرب علی الجنازة بلاخبب وهوعدو سریع وبلا جلوس قبل وضعه ای قبل وضع المیت عن اعناق الرجال. انتهیٰ

[حاشیه صفحه سابقه] (۲). فتح القدیر مصری ج۱ ص۴۵۲. ظفیر الدین المفتاحی

(۱). وګوری ترمذی باب ماجاء این یقوم الامام ج۱ ص ۱۳۴. ظفیر

په غاية الاوطار ترجمه ددرالمختار کی راوړی، نو لمونځ جائزنه دی پرمړی غائب باندی په سبب دنه موجودګی دشرط، اونه پرهغه مړی چی لوړ سویدی پرسپرلی باندی یاپه ګاډئ باندی یاپه حیوان باندی یا دخلګو په اوږو باندی په شرط دنه موجودګی پرمځکه انتهی. نو ددی نجیحه روایاتو څخه اوداحادیثو صحیحه څخه معلوم سوه چی دجنازی لمونځ پرهغه مړی چی موضوع علی السریر وی بغیر دکراهت څخه جائزدی بلکی دغه رکم کول اولی (اوښه) دی. فقط

الجواب صحیح حق. تجوز الصلوٰة علی المیت وهو علی السریر الموضوع علی الارض کما هومعروف ومعمول فی عامة البلاد فقط، والله تعالیٰ اعلم، کتبه عزیز الرحمٰن عفی عنه ۱۲۰ رجب سنه ۱۳۳۷ هـ.

دجومات په غولی کی دجنازی لمونځ درست دی اوکه نه: سوال: (۲۹۵۹\۱) دجومات په غولی کی دجنازی لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

دجنازی دلمانځه په وخت کی دولی اجازه درسته ده: سوال: (۲۹۶۰\۲) دجنازی دلمانځه په وخت کی چی دمړی دولی څخه کمه اجازه اخیستل کیږی دا درسته ده اوکه نه؟

جواب: ۱\: دجومات پر فرش باندی دجنازی لمونځ مکروه دی دجومات څخه بالکل دباندی په کاردی.

۲\: کم کسان چی دولی په موجودګی کی دامام حق نه لری هغوی لره دولی څخه اجازه اخیستل په کاردی.

صرف داخترونو لمونځ کونکی بینمازه دی، دهغه جنازه درسته ده: سوال: (۲۹۶۱\۱) دبینمازه جنازه کول جائزدی اوکه نه؟ اوداخترونو لمونځ کونکی لمونځ ګذاردی اوکه بی نمازه؟

که یومړی بی دجنازی څخه ښخ سی نو وروسته ترڅو ورځو پوری دهغه جنازه کیدی سی؟

سوال: (۲۹۶۲\۲) که چیری دیومړی جنازه نه وی سوی نو ددفن کولو څخه وروسته ترڅو ورځو پوری کیدلی سی؟

جواب: ۱\: دبی نمازه دجنازی لمونځ کول ضروری دی، غرض داچی دهریو داسی ګنهګار مسلمان دجنازی لمونځ کول په کاردی که څه هم هغه زانی شرابی اوبینمازه فاسق وی ([1]) صرف داخترونو لمونځ کوونکی اودپنځه وخته لمونځونو نه کونکی بینمازه دی.

۲\: تر دری ورځو پوری دلمونځ کولو حکم دی ([2]). فقط

([1]). هی صلاة الجنازة فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة الخ (درمختار، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰). ظفیر

([2]). ومن دفن ولم یصل علیه صلی علی قبره ما لم یغلب علی الظن انه تفسخ (غنیة المستملی ص ۵۴۲) وقیل =

که دلمانځه په وخت کی جنازه راسی نوڅه به کوی؟ سوال: (۲۹۲۳) که دماپښین په وخت کی یاپه بل وخت کی جنازه راسی، نومخکی به فرض اوسنت کوی بیابه جنازه کوی اوکه نه دفرضو څخه وروسته اودسنتو څخه مخکی، یا څه کول په کاردی؟

جواب: په درمختار کی یی اول دالیکلی دی چی دجنازی لمونځ دي دسنتو څخه مقدم کړی، اوپه شامی کی دی چی دماپښین اودماخستن اودجُمعي دسنتو څخه دي مخکی وکی، بیایی په درمختار کی لیکلی دی، لکن فی البحر عن الحلبی الفتوٰی علی تاخیر الجنازة عن السنة الخ ([1])، ددی حاصل دادی چی فتوٰی پردی باندی ده چی دجنازی لمونځ دي دسنتو څخه وروسته اداء کړی، په دی باندی یی بیا څه شبهه کړیده، غرض دادی چی په دی کی اختلاف دی چی څنګه ضرورت وی هم هغه رکم دي وسی څه حرج پکښی نسته.

دهغه ماشوم چی مړ اوژوندی یی معلوم نه سی دهغه دجنازی لمونځ: **سوال**: (۲۹۲۴\۱) یوماشوم دپوره مودی پیدا سو، معلومه نه سوه چی ژوندی پیدا سوی دی اوکه مړ، نو دهغه جنازه به کول کیږی اوکه نه؟

دمړ ماشوم دجنازی لمونځ نسته: **سوال**: (۲۹۲۵\۲) دیوی حمل داری ښځی پرپوره موده ماشوم پیداسو، معلومه نه ده چی هغه ژوندی پیداسو اوکه مړ، اندازه صرف څلور پنځه ګوتی اوږد به وو، پزه غوږونه یولاس پښه نوکان وغیره ټول بدن یی دانسان وو، سترګی یی پټی وی، دغه ماشوم دبنګی په لاس وغورځول سو، نو ایا دداسی ماشوم لمونځ او کفن او باقاعده په قبر کی پټول په کار وو اوکه نه؟

جواب: \۱\: که چیری دژوندی پیدا کیدلو علامه یی معلومه وی نو لمونځ باندی په کار دی، کنې نه دی. ([2])

\۲\: که چیری داسی ماشوم مړ پیدا وی نولمونځ به نه باندی کول کیږی سی لیکن کفن او دفن یی کول په کاردی غورځول یی نه دی په کار ([3]).

دنرښځی جنازه به کول کیږی: **سوال**: (۲۹۲۶) دنرښځی جنازه به کول کیږی اوکه نه؟ اوکه

= یقدر بثلاثة ایام وقیل عشرة وقیل شهر، ط عن الحموی (ردالمحتار باب الجنائز ج۲ ص ۲۲۴). ظفیر

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص ...... ، ج۲ ص ۱۲۷. ظفیر

([2]). ومن ولد ومات یغسل ویصلی علیه الخ ان استهل ای وجد منه مایدل علی حیاته بعد خروج اکثره الخ والا غسل وسمی الخ وادرج فی خرقة ودفن ولم یصل علیه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۸ – ۸۲۹ – ۸۳۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۷ – ۲۲۸). ظفیر

([3]). ومن ولدفمات یغسل ویصلی علیه ان استهل والا ای لایستهل غسل وسمی وادرج فی خرقة ودفن ولم یصل علیه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص ۸۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۷ – ۲۲۸) . ظفیر

کول کیږی نوڅنګه به کیږی ؟

جواب: کول کیږی به، لکه څنګه چی دنورو مسلمانانو جنازه کیږی (۱). فقط

په جنازه کی تکرار مشروع نه دی: **سوال**: (۲۹۲۷) حضور ﷺ پرحضرت حمزه رضی الله عنه باندی اویا ۷۰ یاځو واره جنازه وکړه اوکه دعاء یی وکړه؟ اوپر حضور ﷺ باندی صحابه کرامو رضی الله عنهم اویا واره اوکه ډیرځلی لمونځ یادعاء کړیده، پرامام اعظم رضی الله عنه باندی دغسل څخه وروسته دبغداد قاضی درحمت دعاء وکړه اوپرجنازی باندی شپږواره دپټیدلو څخه مخکی اوددفن څخه وروسته ترشلو ورځو پوری یی لمونځ کړی دی. دشاه عبد العزیز صاحب په جنازه باندی پنځه پنځوس واره دجنازی لمونځ سوی دی، پورته لیکل سوی خبری صحیح دی اوکه نه؟ په دغه څلور واړو موقعو کی، اول لمونځ خوفرض کفایی دی اودا باقی لمونځونه مستحب ددعاګانو دپاره په اجتماع اواهتمام اوپه دعاء پسی دعاء کول دپورته ذکر سوو دلائلو څخه ثابتیږی اوکه نه؟ ایا فعل درسول الله ﷺ اوفعل دصحابهٔ کرامو رضی الله عنهم به هم معمول وی اوکه اتفاقی؟ کله بدعت سیئه وی؟

جواب: داحنافو په نزد دجنازی دلمانځه تکرار مشروع نه دی په درمختارکی دی:

ولا ای وان صلی من له حق التقدم کقاض او نائبه او امام الحیّ او من لیس له حق التقدم وتابعه الولیّ لا یعید الخ وان صلی هو ای الولیّ بحق بان لم یحضر من یقدم علیه لا یصلی غیره بعده الخ (۲). (درمختار) وفیه قبیله ولذا قلنا لیس لمن صلی علیها ان یعید مع الولی لان تکرارها غیر مشروع الخ وفی الدر المختار: وان صلی الولی لم یجز لاحد ان یصلی (۳) بعده الخ وفی الهامش للمصنف ان تاویل صلاة الصحابة علی النبی ﷺ ان ابابکر رضی الله تعالی عنه کان مشغولا بتسویة الامور وتسکین الفتنة فکانوا یصلون علیه قبل حضوره وکان الحق له فلمافرغ صلی علیه ﷺ ثم لم یصل احد بعده (۴)

ددی عبارت څخه دصحابه کرامو رضی الله عنهم دلمانځه تاویل خومعلوم سو، باقی درسول الله ﷺ لمونځ پرحضرت حمزه رضی الله عنه باندی که چیری ثابت سی نوهغه درسول الله ﷺ خصوصیت دی دنورو دپاره دامشروع نه دی، قال الله تعالی ان صلوٰتك سکن لهم، او د حضرت امام اعظم رضی الله عنه پرجنازه باندی، یا دحضرت شاه صاحب عبدالعزیز رحمه الله پرجنازه باندی که چیری بالفرض دلمانځه تکرار سوی وی، نودتکرار کونکو دافعل حجت نه دی،

---

(۱). وهی فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة بغاة وقطاع طریق الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة الجنائز ج۱ ص ۸۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۳. ظفیر

(۳). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۳. ظفیر

(۴). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص۸۲۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۲. ظفیر

په احنافو باندې په دې سره الزام نه سي کیدلی، فقط، والله تعالٰی اعلم
عزیز الرحمٰن مفتی دار العلوم دیوبند.
جواب: ۲\۲۱: ازعلامه کشمیری رحمه‌الله: پرنبی کریم ﷺ باندی تکرار دصلوة دهغوی ﷺ خصوصیت دی، اوپرحضرت حمزه رضي‌الله‌عنه باندی لمونځ هیڅ مکررنه دی سوی، صرف یو لمونځ پرهغه باندی سویدی، بیا پرنورو شهیدانو باندی، لیکن جنازه دحضرت سید الشهداء.رضي‌الله‌عنه هم هلته پرته وه، راوی داشمول په اویا ۷۰ لمونځونو سره تعبیر کړی دی، او دلمانځه څخه مراد یې تکبیر اخیستی دی، باقی په سوال کی څه روایت حدیثی یا مذهبی نسته چی دهغه جواب ورکول سی. فقط، احقر انور شاه کشمیری عفا الله عنه

که څوک مسلمان سی خوخپل ځان ښکاره نه کړی نوهغه مسلمان دی اوکه نه؟ سوال: (۲۹۲۸) دهندو قوم یوسړی په خفیه طور سره مسلمان دی لمونځ وغیره دشریعت احکام اداء کوی لیکن په ښکاره حال کی هغه هندودی اودخپلو هندوانو والدینو په کور کی اوسیږی اوخوری څښی، لیکن په وجه دواده یا دجائیداد دتقسیم یاپه یوې بلې وجهی سره هغه ښکاره مسلمان نسو، نو ایا هغه دمسلمان ویل کیدلو مستحق دی؟ اودهغه جنازه کول درست دی اوکه نه؟

جواب: کله چی هغه کلمه دتوحید وویله او داسلام احکام یې قبول کړل نومسلمان سو، نوعند الله هغه مسلمان دی اوهغه مسلمان ګڼل په کاردی (۱). فقط (اودهغه جنازه کول په کاردی). (۲)

کم ماشوم چی ژوندی پیداسو دهغه دجنازې لمونځ اوکفن ضروری دی: سوال: (۲۹۲۹) دیو ښځی صرف شپږ میاشتی وروسته ماشوم پیداسو، دغه ماشوم دپیدایښت په وخت کی ژوندی وو، دپیدایښت څخه وروسته یې څه حرکت وکی اویو دوه واره دژړا داواز څخه وروسته صرف تریو منټ پوری ژوندی وو اوبیا مړسو، دماشوم مور اوپلار ددایی ښځی په ذریعه ماشوم په یولوښی کی واچوی اودغسل اودکفن څخه بغیر یې ښخ کی، آیا داسی ماشوم لره غسل اوکفن ورکول او دجنازې دلمانځه کولو څخه وروسته دفن کول واجب دی اوکه نه؟ اودهغه دمور اودپلار دپاره څه حکم دی؟

جواب: دغه ماشوم لره غسل اوکفن ورکول اوپه هغه باندی لمونځ کول ضروری وو (۳) دهغه دمور اوپلار څخه داغلطی وسوه اوس ددی کفاره توبه او استغفار کول دی. فقط

(۱). والایمان هوالاقرار ای بلسانه بالتحقیق والتصدیق ای بالجنان (شرح فقه اکبر ص ۱۰۳). ظفیر
(۲). قال رسول الله ﷺ صلوا علی کل بر وفاجر (شرح فقه اکبر ص ۹۱). ظفیر
(۳). ومن استهل بعد الولادة سمی وغسل وصلی علیه (هدایه باب الجنازة فصل فی الصلوة علی المیت ج۱ ص ۱۲۳).

چي دغرمي په وخت كې جنازه تياره يې نومخكې به دماپښين لمونځ كوي اوكه دجنازې؟

سوال: (۲۹۷۰) دلته ديو اعلٰی منصب دار لور وفات سوه دجنازې وغيره دشركت دپاره دنهوبجو دوخت اعلان وسو، خلگ پرمقرره وخت باندې راغلل، ليكن دلته دتوقع خلاف ځو ساعته تاخير وسو، ډيرو خلگو ډوډۍ هم نه وه خوړلې، هغوی په زړه زړه كې بيريدل، ديوولس بجو څخه وروسته جنازه پورته سوه اودولس بجې قبرستان ته ورسيدله قبر بالكل تيار وو، اكثره خلگو وغوښتل چي اول دجنازې لمونځ وسي نوايا په داسي حالت كې كله چي دولس بجې وي اوخلگ هم دځو ساعتونو څخه راپدې خوا انتظار سوي وي اوقبرهم تياروي نواول دجنازې لمونځ كول ښه دي اوكه دماپښين؟

جواب: په دې كې دواړه قوله دي دوخت فرضي لمونځ دجنازې په لمانځه باندې (مخكې كول) اودجنازې دلمانځه مخكې والې په وختي فرضي لمانځه باندې، لكه څنگه چي په درمختار كې دي، لكن فى البحر قبيل الاذان عن الحلبى الفتوٰى على تاخير الجنازة عن السنة واقره المصنف كانه الحاقا لها بالصلٰوة، لٰكن فى اخر احكام دين الاشباه وينبغى تقديم الجنازة والكسوف حتٰى على الفرض ما لم يضق وقته الخ ([1])، اوهمدغه ركم دواړه قوله په شامي كې ذكرسوي دي نوكله چي په دې باره كې دواړه قسم اقوال سته دي يعنې بعضو فقهاؤ دجنازې دلمانځه دوړاندې والې حكم كوي اوبعضې دوختي فرضو اودسنتو مؤكده وو دتقديم حكم كوي، نوچي څنگه موقعه اوځنگه ضرورت وي هغسې كيدې سي، نوپه صورة مسئوله كې ښه داوه چي دجنازې لمونځ مخكې اداء سوي واى، ځكه چي دماپښين وخت ډير باقي وو، اوپه جنازه كې تاخير زيات سوي وو. فقط

دشيعه جنازه كول: **سوال**: (۲۹۷۱) دشيعه جنازه كول جائزدي اوكه نه؟ اودهغوی سره دتعلق ساتلو څه حكم دى؟

جواب: دشيعه گانو كمه ډله چي شيخينو ته بد رد نه وايي اوصحابه كرامو ﷺ ته بد نه وايي اودحضرت عائشه ﷺ دافك قائل نه وي اوهيڅ كفري عقيده نه لري، نودهغوی جنازه دي وسي، اوكه چيري اهل سنت والجماعت هم دهغوی دجنازې لمونځ وكې يايي وركې نوڅه حرج په كښې نسته، اوهيڅ څه تعزيرورباندې نسته اودهغوی سره تعلق ساتل منعه نه دي.

كه چيري ډيري جنازې دسړو، ښځو اودماشومانو جمع سي نودجنازې لمونځ به يې څنگه كوي؟ **سوال**: (۲۹۷۲) كه چيري ډيري جنازې دسړيانو اودښځو او دهلكانو، انجونو په يو

([1]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العيدين ج۱ ص ۷۷۵ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۷ . ظفير

ځای جمع سی نو ددغه ټولو جنازه به څنګه کوی؟

جواب: ښه داده چې جلا جلا یې وکړی، اوکه دټولو لمونځ په یوځای وکړی نوداهم درست دی، که دبالغو او دنابالغو دواړو قسمو جنازی وی نو ددواړو دعاء دي ووایی. ([1])

سوال: (٢٩٧٣\١) مړی په قبرکی چې دهرڅومره مودی دپاره وی، امانتی ایښوول یې مسنون طریقه ده اوکه نه؟

دشیعه او دشافعی اقتدا په جنازه کی جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (٢٩٧۴\٢) دحنفی مقتدی دپاره دجنازی په لمانځه کی دشافعی یا دشیعه امام اقتداء درسته ده اوکه نه؟

جواب: \١: دا مسنون نه دی اودرست هم نه دی.

\٢: دشافعی امام اقتداء حنفی لره درسته ده اودشیعه امام اقتداء درسته نه ده.

په څلورمه ورځ پرقبر باندی لمونځ ولی جائزنه دی: **سوال**: (٢٩٧۵) تردری ورځو پوری دمړی په قبر باندی لمونځ کیدلی سی، په څلورمه ورځ باندی یې ولی نه سی کولی؟

جواب: چونکی ددی مودی څخه وروسته دمړی بدن غالبًا سالم نه پاته کیږی ددی دپاره دغه حکم دی ([2]).

دوی جنازی په یووار: **سوال**: (٢٩٧٦) دوی جنازی په یوځای کیدی سی اوکه نه؟ لکه سړی اوښځه یا ښځه او ماشوم، یا ماشومه یا سړی او هلك او انجلی؟

جواب: ښه دادی چې دهری یوی جنازی لمونځ جلا جلا وکی اوکه نه یوځای یې وکړی نو دا هم درست دی ([3]).

داختر دلمونځ څخه وروسته اودخطبی څخه مخکی دجنازی لمونځ: **سوال**: (٢٩٧٧) داختر دلمانځه څخه وروسته اودخطبی څخه مخکی دجنازی لمونځ سره دکراهته جائز دی یا بغیر دکراهت څخه اوکه نه خلاف اولی دی؟

جواب: په درمختار کی دی چې داختر لمونځ دجنازی دلمانځه څخه مخکی کول په کار دی، او دجنازی لمونځ دخطبی څخه مخکی کول په کار دی، نو مخکی کول دجنازی دلمانځه داخترونو پرخطبی باندی ضروری دی ([1]).

([1]). واذا اجتمعت الجنائز فافراد الصلاة على كل واحدة اولى من الجمع وان جمع جاز الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ١٢٨ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٨). ظفير

([2]). صلى على قبره استحسانا ما لم يغلب على الظن تفسخه (درمختار) انه دار الامربين التفسخ المقتضى عدم الصلوة وبين عدمه الموجب لها الخ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢۴). ظفير

([3]). اذا اجتمعت الجنائز فافراد الصلاة على كل واحدة اولى من الجمع الخ وان جمع جاز (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجنائز ج١ ص ٨٢١ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٨). ظفير

دجنازي په لمانځه کې يې داخيري تکبير ځخه مخکې سلام وګرځوی چې ورياد سو نوتکبير يې ووايه: **سوال**: (۲۹۷۸) دجنازي په لمانځه کې يې داخرى تکبير ويلو ځخه بغير يو طرف ته سلام وګرځوی نو ايا لمونځ صحيح سو؟

جواب: په دې صورة کې لمونځ صحيح سو ([۲]). فقط

کم دجنازي لمونځ چې په اجرت باندې وکې هغه جائزدي اوکه نه؟ سوال: (۲۹۷۹) دجنازي لمونځ چې په اجرت باندې وسی، نو دجنازي لمونځ اداسو که نه؟ دلمونځ کوونکو ځخه فرض کفايي ساقط سو اوکه نه؟

جواب: دجنازي لمونځ ادا سو اوفرضيت ساقط سو، ليکن اجرت اخيستل په هغه باندې حرام او معصيت دی په حق داخيستونکی کې، اوکم چې معروف وی هغه دمشروط په حکم کې کيدلو سره حرام ګرځی ([۳]). فقط

دلمر دتيزوالی په وجهی سره دجومات په فرش باندې جنازه درسته ده اوکه نه؟ سوال: (۲۹۸۰\۱) درمضان المبارك په الوداعی جُمعه جامع مسجد ته جنازه راغله لمونځ ګذار ډير زيات وه، که دجنازي لمونځ يې دجومات ځخه دباندې کولی نو دصفونو سيده کيدل ګران وو، دقبرونو اوددرختو په وجه لمونځ ګذار نه سی راتلی، اودلمرپه وجه هم تکليف وو، په دی صورة کې دجنازي لمونځ دجومات پرفرش باندې کول جائز دی اوکه نه؟ او ثواب به يې وی اوکه نه؟

که ددی عذر باوجود دباندې جنازه وکړي نوځه حکم دی؟ سوال: (۲۹۸۱\۲) کم سړی چې دذکر سوو عذرونو باوجود جنازه دجومات ځخه په باندې کولو سره دجنازي لمونځ ورکوی دهغه دپاره ځه حکم دی؟

([۱]). وتقدم صلاتها على صلاة الجنازة إذا اجتمعا لانه واجب عينا والجنازة كفاية وتقدم صلاة الجنازة على الخطبة وعلى سنة المغرب وغيرها والعيد على الكسوف، لكن في البحر قبيل الاذان عن الحلبي الفتوى على تأخير الجنازة عن السنة، وأقره المصنف ﷺ قوله: على الخطبة أي خطبة العيد وذلك لفرضيتها وسنية الخطبة، وكذا يقال في سنة المغرب (ردالمحتار باب العيدين ج۱ ص ۷۷۵ ، ط. س. ج۲ ص ۱۶۷). ظفير

([۲]). وركنها شيئان التكبيرات الاربع الخ والقيام (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۹) . ظفير

([۳]). ولا يجوز أخذ الاجرة على الطاعة كالمعصية، وفيه أن أخذ الاجرة على الطاعة لا يجوز مطلقا عند المتقدمين، وأجازه المتأخرون على تعليم القرآن والاذان والامامة للضرورة، كما بين في محله، ومقتضاه عدم الجواز هنا وإن وجد غيره لانه طاعة تعين أو لا، ولا يختص عدم الجواز بالواجب نعم الاستئجار على الواجب غير جائز اتفاقا ﷺ وعبارة الفتح ولا يجوز الاستئجار على غسل الميت، ويجوز على الحمل والدفن، وأجازه بعضهم في الغسل أيضا (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۰۴ ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۹ – ۲۰۰). ظفير

بغیر دعذره په جومات کی دجنازی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال: (۲۹۸۲\۳) که چیری څه عذر نه وی بلکی اتفاقا دجنازی لمونځ په جومات کی وسی نو دجنازی لمونځ به وسی اوکه نه؟

سوال: (۴) چی جُمعه او سنت دجُمعې اوجنازه یوځای سی په کم ترتیب به اداء کیږی؟

جواب: ۱\\:صحیح داده چی دجنازی لمونځ دجومات په فرش باندی په ذکر سوی صورة کی مکروه دی، اوپه حدیث شریف کی دی چی په جومات کی دجنازی دلمانځه کولو سره ثواب نه حاصلیږی ([1]).

۲\\: همدغسی دشریعت حکم دی چی جنازه دي دجومات څخه دباندی یووړل سی او لمونځ دي اداء سی، اوپه ذکر سوو عذرونو کی هیڅ یو عذر په جومات کی دجنازی دلمانځه دجواز سبب نه سی کیدلی، داحنافو صحیح مذهب هم دادی چی دجنازی لمونځ په جومات کی په هرحال کی مکروه دی ([2]).

۳\\: دجنازی لمونځ به اداء سی اوفرض کفایه به ساقط سی، لیکن ثواب به ورته حاصل نه سی ([3]). فقط

۴\\: په درمختارکی دی، وتقدم صلوٰة الجنازة علی الخطبة وعلی سنة المغرب وغیره الخ قوله وغیره کسنة الظهر والجمعة والعشاء الخ، شامی ([4]). ددی څخه معلومه سوه چی دجُمعې ترفرضو وروسته دي مخکی دجنازی لمونځ اداء کړی بیا دي سنت وکړی. فقط

چیری چی څلورو واړو طرفوته قبرونه وی هلته دجنازی لمونځ یافرض لمونځ کول مکروه دی: سوال: (۲۹۸۳) که مخ ته او شاته څلورو واړو طرفونو ته قبرونه وی هلته فرض یا دجنازی لمونځ کول مکروه دی اوکه نه؟

جواب: په داسی ځای کی لمونځ کول مکروه ([5]) دی. فقط

([1]). و ([2]). وکرهت تحریما وقیل تنزیها فی مسجد جماعة هو ای المیت فیه وحده اومع القوم واختلف فی الخارجة عن المسجد وحده اومع بعض القوم والمختار الکراهة مطلقا الخ وهو الموافق لاطلاق حدیث ابی داود من صلی علی میت فی المسجد فلا صلاة له (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۴ – ۲۲۵). ظفیر

([3]). من صلی علی میت فی المسجد فلا صلاة له (درمختار) ورواية أحمد وأبي داود فلا شئ له وابن ماجه فليس له شئ وروي فلا أجر له وقال ابن عبد البر: هي خطأ فاحش، والصحيح فلا شئ له الخ وليس الحديث نهيا غير مصروف ولا مقرونا بوعيد، لان سلب الاجر لا يستلزم ثبوت استحقاق العقاب الخ لانه علم قطعا أنها صحيحة فهي مثل لا صلاة لجار المسجد إلا في المسجد (رد المحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲٦). ظفیر

([4]). ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۵ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۷. ظفیر

([5]). وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة وفی طریق ومزبلة ومجزرة ومقبرة ومغتسل وحمام الخ (الدرالمختارعلی =

دنرښځانو جنازه کول او دمسلمانانو په قبرستان کی دهغوی پټول: **سوال**: (۲۹۸۴) نرښځيان ځوك چي دلواطت وغيره ګټه خوری دهغوی دجنازی لمونځ کول او دمسلمانانو په قبرستان کی يی پټول، اودهغوی دګټی څخه خيرات اخيستل څنګه دی؟

جواب: په حديث شريف کی دی، صلوا علی بر وفاجر، الحديث، ددی څخه معلومه سوه چي دهريو نيك اوبد دجنازی لمونځ کول په کاردی اوفقهاؤ هم دغسی ليکلی دی چي ماسوا دباغيانو اودهغو څخه کم چي فقهاؤ شمېرلی دی، دهر مسلمان جنازه کول په کار دی (۱)، که څه هم هغه فاسق اوبدکاره وی، نو ذکرسوی نرښځيان ځوك چي دمسلمانانو دقومونو څخه دی دهغوی دجنازی لمونځ کول په کاردی، که څه هم دخرابو کارونو دارتکاب په وجهی سره هغوی فاسقان دی اودجنازی دکولوڅخه وروسته يی دمسلمانانو په قبرستان کی پټول په کاردی، اوددی څخه ماسوا دهغوی په مجلسونو کی شريکېدل اودعوت خوړل وغيره درست نه دی صرف دهغوی تجهيز اوتکفين کم چي داسلام حق دی کول په کاردی، نوردهغوی څخه جلاوالی په کاردی. فقط (اودمسلمانانو په قبرستان کی يی پټول درست دی).

دکم ماشوم چي په يو وجه سره هلک يا انجلی کېدل معلوم نه وی نو دهغه دپاره به کمه دعاء وايي؟ **سوال**: (۲۹۸۵) ديوی ښځی په ځنګل کی ماشوم پيدا سو، دمور په بيهوښی کی حيوانانو دماشوم جوسه وخوړله نوپه لمانځه کی به دهلك دعا وايی اوکه دانجلی؟

جواب: دهلك دعاء ويل په کاردی اوکه دانجلی دعاء ووايی نوهم جائزدی (۲).

دجنازی دلمانځه څخه وروسته که څه کسان راسی نوبيا هغوی جنازه نه سی کولی: **سوال**: (۲۹۸۶) کمو کسانو چي دجنازی لمونځ ورکړی وی که چيری وروسته لس پنځه کسان ناخبره راسی نوهغوی بيا دجنازی لمونځ ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: بيايی نه سی ورکولی ځکه چي دجنازی لمونځ مکرر نه کيږی (۳). فقط

= 　هامش ردالمحتار کتاب الصلاة ج۱ ص ۳۵۲). ظفير

(۱). وهی فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة بغاة وقطاع طريق الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۴ ، ط. س. ج۲ ص۲۱۰). ظفير

(۲). ولايستغفر للصبی ولکن يقول اللهم اجعله لنا فرطاً واجعله لنا اجراً وذخرا الخ (هدايه باب الجنائز فصل فی الصلوة ج۱ ص ۱۲۳) ځکه چي دمذکر ضمير به دمرده طرف ته راجع سی او دمؤنث ضمير به په تاويل دنفس، دنفس طرف ته راجع سی. ظفير

(۳). ولذا قلنا ليس لمن صلی عليها ان يعيد مع الولی لان تکرارها (ای صلاة الجنازة) غير مشروعية (درمختار) وان صلی الولی لا يجز لاحد ان يصلی بعده الخ حتی لايجوز الاعادة لا لسلطان ولالغيره (ردالمحتار باب الجنائز ج۱ ص ۸۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۳). ظفير

چې دجنازې لمونځ يې نه وي زده نوپه جنازه کې شريک سي اوکه نه؟ سوال: (۲۹۸۷) هغه خلګ چې دجنازې لمونځ يې نه وي زده هغوي په جنازه کې شريك سي اوکه نه؟ که شريك سي نوڅه به وايي؟

جواب: کم خلګ چې دجنازې دلمانځه په ترکيب باندې نه پوهيږي نوهغوي دي هم په لمانځه کې شريك سي، اوالله اکبر دي دامام سره وايي اوکه دعاء ماثوره ورته ياده نه وي نو اللهم اغفرلنا ولوالدينا وله وللمومنين والمومنات، دماثوره دعاء پرځاى ويل هم درست دي. (١)

په جنازه کې تاخير ښه نه دی: سوال: (۲۹۸۸) دجنازې په تيارولو کې عمداً تاخير کول څنګه دي؟

جواب: په درمختار کې دي، واذا مات تشد لحياه وتغمض عيناه الى ان قال ويسرع فى جهازه وفى حديث ابى داود فاذا مات فاذنونى حتٰى اصلى عليه وعجلوا به (٢) الحديث، نو معلومه سوه چې دمړي په تجهيز اوپه تکفين کې تاخيرکول نه دي په کار، تلوار کول مستحب دي. فقط

دخودکشي کونکو جنازه کول: سوال: (۲۹۸۹) کم سړي چې خودکشي وکړي دهغه دجنازې لمونځ کول درست دي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کې دي: من قتل نفسه ولو عمداً يغسل ويصلى عليه، (٣) ترجمه: چا چې خپل ځان په خپله مړکئ که څه هم چې قصداً يې داسي کړي وي نوهغه لره دي غسل ورکول سي اودهغه جنازه دي وسي. فقط

اول به دماپښين لمونځ کوي اوکه نه دجنازې؟ سوال: (۲۹۹۰) دزوال څخه وروسته مخکې دماپښين لمونځ کول په کاردي اوکه نه دجنازې اوبالخصوص دولي دپاره؟ اوښه څنګه دي؟

جواب: مخکې دي دماپښين لمونځ سره دسنتو وکي اودهغه څخه وروسته دي دجنازې لمونځ وکي، دولي اودغير ولي دټولو دپاره يو حکم دي، ليکن که چيرې دڅه ضرورت په وجه دجنازې لمونځ مخکې وسي نوهم څه حرج پکښې نسته ليکن ښه داده چې مخکې دماپښين لمونځ وکي، وکذا فى الدر المختار (٤). فقط

---

(١). ثم افاد ان من لم يحسن الدعاء بالماثور يقول اللهم اغفرلنا ولوالدينا وله وللمومنين والمومنات (ردالمحتار باب الجنائز ج١ ص ٨١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٢). ظفير

(٢). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٧٩٨ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٣. ظفير

(٣). الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنازة ج١ ص٨١٥ ، ط. س. ج٢ ص ٢١١. ظفير

(٤). وتقدم صلاتها على صلاة الجنازة اذا اجتمعا الخ لكن فى البحر قبيل الاذان عن الحلبى الفتوٰى على تاخير الجنازة عن السنة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العيدين ج١ ص ٧٧٥، ط. س. ج٢ ص ١٢٧). ظفير

دجنازې صف متصل لرل پکاردي: **سوال**: (۲۹۹۱) دجنازې په لمانځه کی به مقتدیان یودبل په فاصلې سره درېږي اوکه نه دوختی لمانځه په شان یوځای به درېږي؟

جواب: صف متصل په کاردی، دوقتی فرائضو دجُمعې په شان. فقط

دوې ځلور جنازې په یوه ځای: **سوال**: (۲۹۹۲) ددوو ځلورو جنازو لمونځ په یووار کولو سره لمونځ کیږي اوکه نه؟ دجنازې په لمانځه کی دیو دوه تکبیرونو په فوت کیدلو سره به مقتدی دامام دسلام څخه وروسته خالی تکبیر وایی اوکه نه دعاء به هم وایی؟

جواب: په یووار ددوو ځلورو، لسو شلو جنازو لمونځ کول درست دی، اودټولو لمونځ اداء کیږي، که څه هم جلا جلا جنازه کول ښه دی، په درمختار کی دی، واذا اجتمعت الجنائز فافراد الصلوة علی کل واحدة اولی الخ وان جمع جاز الخ ([1])، اوکم سړی چی دجنازې په لمانځه کی وروسته راسی اوشامل سی هغه دي دامام دفارغ کیدلو څخه وروسته صرف تکبیرونه ووایی، اوسلام دي وګرځوی اودعاء دي نه وایی، که څه هم چی دجنازې دپورته کیدلو اندیښنه وی لکه څنګه چی اکثره کیږي. کما فی الدرالمختار ([2]). فقط

دځلورم تکبیر او دسلام تر مینځ دعاء سته اوکه نه؟ **سوال**: (۲۹۹۳) دجنازې په لمانځه کی دځلورم تکبیر اودسلام ترمینځ یو دعاء ویل جائزدی اوکه نه؟ داحنافو په بعضو کتابونو کی یی جائز لیکلی دی اوپه بعضو کی ناجائز؟

جواب: ښکاره مذهب داحنافو دادی چی دځلورم تکبیر څخه وروسته هیڅ څه دعاء نسته، لهذا پرینښوول یی احوط دی که څه هم دجواز روایات هم سته، په درمختار کی دی، ویسلم بلا دعاء الخ وفی الشامی قوله بلا دعاء هو ظاهر المذهب ([3]).

دلمر پریوتلو په وخت کی دجنازې لمونځ درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۹۹۴\۱) یوسړی دجنازې لمونځ دلمر پریوتلو په وخت کی کوی، ایا دغه سړی مصیب دی؟ اودجنازې دلمانځه اجر به ورکول سی اوکه نه؟ اودجنازې دلمانځه اعاده واجبه ده اوکه نه؟

که جنازه په مکروه وختونو کی راسی نوڅه حکم یی دی؟ **سوال**: (۲۹۹۵\۲) که چیری جنازه په مکروه وخت کی را ورسیږي نوایا دغه رسیدل د، اذا حضرت، ترمفهوم لاندی داخل دی اوکه نه؟

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۲۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۸. ظفیر

([2]). ثم یکبر ان مافاتهما بعد الفراغ ان خشیا رفع المیت علی الاعناق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، باب الجنائز ج۱ ص ۸۲۰ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۲). ظفیر

([3]). ردالمحتار باب صلوة الجنائز ج۱ ص ۸۱۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۳. ظفیر

جواب: \۱: دغه سړی دجنازی دلمانځه په اداء کولو کی مصیب دی اودجنازی دلمانځه اجر هغه ته حاصل دی اود اعادې ضرورت نسته، بلکی اعاده یې جائزه نه ده، لمامر من الروایات ونقل فی الشامی عن شرح المنیة بخلاف ظهورها فی وقت مکروه الخ ای تجوز الصلوٰة علیها فی هذه الصور بلاکراهة ([1]).
\۲: داخل نه ([2]) دی. فقط

صرف ښځی دجنازی لمونځ کولی سی اوکه نه؟ اودسړو یې په جماعت کی شریکیدل څنګه دی؟ **سوال**: (۲۹۹۶) صرف ښځی دجنازی لمونځ کولی سی اوکه نه؟ اودسړو په جماعت کی دښځو شریکوالی درست دی اوکه نه؟

جواب: په شامی کی یې دفتح القدیر څخه منقول کړی دی چی که یوازی یوه ښځه هم که دجنازی لمونځ وکی نوفرض ساقط کیږی، واعلم ان جماعتهن لا تکره فی صلوٰة الجنازة شامی ([3])، اودسړو جماعت ته دښځو حاضروالی مطلقا مکروه دی، کما فی الدرالمختار ویکره حضورهن الجماعة الخ ([4]). فقط

شپږم فصل: **قبر، دفن او دهغه متعلقات**

په شګلنه مځکه کی په خامو خښتو سره دلحد تیارول څنګه دی؟ **سوال**: (۲۹۹۷) په شګلنه مځکه کی قبر قائم پاته کیدی نه سو دسمدستی تیاریدلو څخه وروسته یادخاورو اچولو په وخت کی نړیږی، په داسی صورة کی که چیری په کچه خښتو سره لحد تیار سی نو شرعًا داجائز دی اوکه نه؟

جواب: په داسی حالت اوصورة کی په کچه خښتو سره دلحد قائموالی جائزدی اوپه دی کی به دلحد سنت اداء سی اوڅه کراهت به پکښی نه وی ځکه چی دخامو خښتو په ایښولو اوپه هغه سره دلحد دخوله بندولو حکم دحدیث شریف اودفقهی څخه ثابت دی اودحضور ﷺ په قبر مبارك کی خامی خښتی استعمال سویدی، نو که چیری دذکرسوی ضرورت په وجه دلحد په هرطرف کی خامی خښتی کښی ښوول سی نو دا بیشکه جائز او مستحب دی لکه څنګه چی دفقهی کتابونو دعبارتونو څخه ښکاره ده، ویسوی اللبن

([1]). وګوری ردالمحتار کتاب الصلوة تحت قوله: وفی التحفة الافضل ان لاتؤخر الجنازة ج۱ ص ۳۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۱۲۷. ظفیر
([2]). ردالمحتار باب الامامة تحت قوله ویکره تحریما جماعة النساء ولوفی التراویح فی غیر صلاة الجنازة لانها لم تشرع مکررة ج۱ ص ۵۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۵۲۵. ظفیر
([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۹ ، ط. س. ج۲ ص ۵۲۲. ظفیر
([4]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۵۲۲. ظفیر

علیه الخ، درمختار ([1])، ای علی الحد بان یسد من جهة القبر ویقام اللبن فیه الخ ([2]) جلد اول شامی، ولاباس باتخاذ تابوت ولو من حجر اوحدید له عند الحاجة کرخاوة الارض الخ درمختار، وفی ردالمحتار قوله ولاباس باتخاذ تابوت الخ ای یرخص ذلك عند الجاجة والا کره کما قدمناه انفا، قال فی الحلیة: نقل غیر واحد عن الامام ابن الفضل انه جوزه فی اراضیهم لرخاوتهم، وقال لکن ینبغی ان یفرش فیه التراب وتطین الطبقة الاولی مما یلی المیت ویجعل اللبن الخفیف علی یمین المیت ویصاره لیصیر بمنزلة اللحد والمراد بقوله ینبغی: یسن ، الخ. ([3])

دشامی ددی عبارت داخری حصی څخه صفا ښکاره ده چی داحصه کمه چی په سوال کی درج ده عینی دسنتو مطابق ده، اودهیڅ قسمه کراهیت شبهه په دی کی نسته، ځکه چی داهم په حقیقت کی لحد دی، صرف دلحد دپریوتلو دبیری په وجه دمضبوطوالی دپاره خامی خښتی هرطرف ته قائمی سویدی کم چی دسنتو څخه خلاف نه دی نوددی عمل په ذریعی سره به عمل بالسنة په ښه شان سره حاصل سی، وهو المطلوب. فقط

دمړی دوارثانو څخه ستامپ اخیستل چی دفاتحی اجازه به نه وی اودقبر علامه به هم نه وی:

سوال: (۲۹۹۸) په یوځای کی دیوڅو ورځو نوی قبردی دمړی په وارثانو باندی خلګو په زور یوستامپ ولیکی اوپه دی شرط یی ددفن کولو اجازه ورکړه چی دمړی وارثانو ته به هیڅ قسم اجازه دفاتحی وغیره نه ورکول کیږی او دقبر نښان به هم په قصد داسی خرابیږی چی دقبر هیڅ څه علامه به باقی نه پاته کیږی دپاره ددی چی خلګ پردغه ځای لمونځ هم کولی سی اودخلګو په تګ راتګ کی هم دغه قبر خنډ نه وی اونه په لمانځه کی حارج وی، لهذا دیو قبر علامه ورانول په ذکر سوی عذر سره اوپه وارثانو باندی داسی ستامپ په زور سره لیکل دشریعت ترمخه جائزدی اوکه نه؟ اودنوی قبر علامه ورانونکی دشریعت ترمخه خطاکار دی اوکه نه؟

جواب: قبر مسنم یعنی داوښ دبوك په شکل کول مسنون اومستحب دی اوبعضو دی ته لازم اوواجب ویلی دی، ویسنم ندبا وفی الظهیریة وجوبا قدر شبر (ای اکثر شیئًا قلیلا، بدائع، شامی: قوله ویسنم ای یجعل ترابه مرتفعا علیه کسنام الجمل بما روی البخاری عن سفیان الثمار انه رأی قبر النبی ﷺ مسنما ؒ ([4])، اوداهم په درمختارکی دی: ویخیر المالك بین اخراجه ومساواته

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۲. ظفیر
([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۲. ظفیر
([3]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۲. ظفیر
([4]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۲ ، ط.س. ج۲ ص ۲۳۷. ظفیر

بالارض الخ ([1])، ددی څخه معلومه سوه چی که چیری دچاپه مملوکه مځکه کی دهغه دمالك داجازی څخه بغیر مړی ښخ سی نومالك ته اختیاردی چی دغه مړی دهغه ځای څخه وکاږی یامځکه برابره کړی دقبر شکل پاته نه کړی، نوکه چیری دچا په مملوکه مځکه کی دیومړی دپټولو اراده وی اومالك داشرطونه لګوی نوکیدی سی اوپه وقف سوی قبرستان کی هیڅوك داسی نسی کولی اوذکر سوی شرط په چا باندی لیکلی نه سی. فقط والله تعالی اعلم

<u>دپټولو څخه وروسته مړی نسی ایستل کیدلی</u>: سوال: (۲۹۹۹) دقبر څخه مړی په یو صورة باندی را ایستل کیدی سی اوکه نه؟ که ایستل کیدی سی نوهغه به څه مجبوری وی؟

جواب: په درمختار کی دی، ولا یخرج منه بعد اهالة التراب الا لحق آدمی کان تکون الارض مغصوبة اواخذت بشفعة ویخیر المالك بین اخراجه ومساواته بالارض کما جاز زرعه والبناء علیه اذا بلی وصار ترابا الخ ([2])، ددی حاصل دادی چی دخاورو اچولو څخه وروسته دي مړی دقبر څخه نه راباسی لیکن دبندګانو دحق په وجهی سره مثلاً که په غصب سوی مځکه کی اوپردی مځکه کی دمالك داجازی څخه بغیردفن سی الخ نومالك ته اختیار دی چی مړی وباسی اویا مځکه برابره کړی اودقبر نښانه پرې نه ږدی الخ، همدا جواب دی دذکر سوی سوال. فقط

<u>په پردی مځکه کی بی اجازته مړی پټول څنګه دی؟</u> سوال: (۳۰۰۰) که چیری یو سړی په پردی مځکه کی دمالك داجازی څخه بغیر مړی پټ کړی نوپه داسی حالت کی شرعاً څه حکم دی؟ اومړی ته به عذاب وی اوکه نه؟ اودمځکی مالك ته به اجر ورکول کیږی اوکه نه؟

جواب: که چیری په پردی مځکه کی بغیر داجازی څخه خپل مړی پټ کړی، نوحکم په دی کی دادی چی دمځکی مالك دي یادغه مړی را وباسی اویادي مځکه برابر کړی اوپه خپل کارکی دي راولی. مړی ته څه عذاب په دی کی نسته اوکه مالك په رضامندی سره اجازه ورکړی نوهغه ته به ثواب ورکول سی، په درمختار کی دی، ویخیر مالك بین اخراجه ومساواته بالارض کما جاز زرعه والبناء علیه اذا صار ترابًا، زیلعی ([3])، در مختار. فقط

<u>دشیعه ښځی کفن او دفن</u>: سوال: (۳۰۰۱) که چیری دیوه سنی مسلمان په کورکی شیعه ښځه وی اوهغه مړه سی نودهغې ګور اوکفن کول په کاردی اوکه نه؟ اودهغې جنازه کول

[1]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۰ ج۲ ص ۲۳۸. ظفیر
[2]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۹ – ۸۴۰، ط. س. ج۲ ص ۲۳۷. ظفیر
[3]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۰، ط. س. ج۲ ص ۲۳۷. ظفیر

په کاردی اوکه نه؟

جواب: شیعه ګان پرڅو قسمه دی بعض غالي شیعه ګان دی، دکمو چی تکفیر سوی دی، نوکه چیری دغه ښځه ددغه فریق څخه وی، نودهغه دجنازی لمونځ وغیره هیڅ نه دی کول په کار، بلکی دکافرانو په شان په کنده کی یی پټول په کاردی اوکه چیری داسی نه وی بلکی محض تفضیلیه وی نو هغه مسلمانه ده او دمسلمانانو په شان دهغې تکفین او تجهیز کول په کاردی او دجنازی لمونځ وربانده ی کول په کاردی. (1) فقط

کم قبر چی کښېنستلی وی پرهغه باندی دخاورو اچولو ثبوت: **سوال**: (۳۰۰۲) کم قبر چی ناست وی یابالکل دمځکی سره یوشان سوی وی چی تمیز یی نه کیږی، پر هغه باندی خاوره اچول مستحب دی، ددی دپاره چی دمځکی څخه یی بیلتون وسی، او داهانت یعنی پائمال کیدلو وغیره څخه دقبرحفاظت وسی، ددی خبری سند دفقهی کتابونو یعنی دشامی وغیره څخه دي مرحمت سی؟

جواب: داتصریح په شامی وغیره کی ونه لیدل سوه چی کم قبر ناست وی پرهغه باندی بیاخاوره اچول مستحب دی، البته ددی جواز دعلت څخه ثابتیدی سی چی کم دکتابت علی القبر په جواز کی منقول دی په شامی کی دی، وان احتیج الی الکتابة حتی لایذهب الاثر ولا یمتهن فلا باس به الخ (2)، ج۱ ص ۲۰۱، اوهمدا رکم په شامی اودمنیه په شرح کی دی، ولا یزاد علی التراب الذی خرج من القبر وتکره الزیادة وعن محمد لاباس بها (3)، نوکه څه هم داروایت په وخت د: حتی التراب فی القبر، کی دی لیکن ددی دعموم څخه دا استدلال کیدی سی چی نوره خاوره پرقبر باندی اچول موافق دروایت دامام محمد رحمه الله په لاباس کی داخل دی، فقط

دمړی حامله داری ښځی ماشوم به دخیټی په څیری کولو سره راوایستل سی اوکه نه؟ **سوال**: (**۳۰۰۳**) که چیری حامله ښځه دشپږو میاشتو یااوو میاشتو یادنهو میاشتو یا دڅلورو میاشتو په دوران کی وفات سی نودهغې دخیټی په څیرلو سره به ماشوم را ایستل کیږی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی یی لیکلی دی چی که چیری حامله ښځه مړه سی اوماشوم دهغې په خیټه کی ژوندی وی اوحرکت کوی نودهغې خیټه دي څیری سی اوکه ماشوم حرکت

(1). بخلاف ما اذا کان یفضل علیا اویسبب الصحابة فانه مبتدع لا کافر (ردالمحتار باب المحرمات ج۲ ص ۳۹۸ ، ط. س. ج۳ ص ۴۲). ظفیر

(2). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۷. ظفیر

(3). غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص۵۵۴، ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۲.

کول شروع کړی اودمور دمرګ څخه وروسته هم په هغه کی حرکت اواضطراب باقی وی نو هغه وخت داحکم دی کم چی ذکرسو دڅه مودی قید پکښی نسته، بلکی که چیری دحاملی نهمه میاشت هم وی اودهغه دمرګ څخه وروسته ماشوم په خیټه کی حرکت کونکی اواضطراب کونکی نه معلومیږی نوبیابه خیټه نه سی څیری کولی، بلکی مدار دماشوم پرژوندی والی اوحرکت اوپه اضطراب باندی دی، نه داچی پرڅه موده باندی ددر مختار عبارت دادی، حاملة ماتت وولدها حی یضطرب شق بطنها من الایسر ویخرج ولدها الخ ([1])، چی ترجمه ددی داده چی حمل داره ښځه مړه سوه اوماشوم دهغې په خیټه کی ژوندی دی چی حرکت کوی نودچپه اړخ څخه دي دښځی نس څیری سی اوماشوم دي وایستل سی. فقط

دلحد وسعت او لوړوالی څومره په کاردی؟ سوال: (٣٠٠۴) دقبرلحد څومره فراخه اوڅومره لوړ په کاردی؟

جواب: دلحد په باره کی دومره قدر حکم دی چی وسیع اوفراخه وی چی مړی پکښی په ښه شان ځملولی سی نورڅه خاص تحدید (دحد مقررول) دلحد په باره کی نسته اوداکمه چی مشهوره ده چی دومره لوړ وی چی مړی پکښی کښېنستلی سی داڅه ضروری شرط نه دی ([2]). فقط

پرقبر باندی دتختو پرځای دکاڼو استعمال څنګه دی: سوال: (٣٠٠۵) پرقبر باندی دتختو پرځای دکاڼو استعمال څنګه دی؟

جواب: په ضرورت کی جائز دی ([3]). فقط

دقبر په سلسله کی غلط رواج: سوال: (٣٠٠٦) دلته خلګ دمړی ددفن کولو په وخت کی دمسلمانانو دلاس خاوره دده ترسرلاندی اودهندوانودلاس خاوره ترپښولاندی کښیږدی، لوړ تخته باندی کښیږدی اوقبر تیار کړی، داکار جائز دی اوکه نه؟

جواب: دمسلمان مړی دپاره دلحد جوړول مسنون دی اوکه چیری لحد نسی تیاریدلی دمځکی دنرموالی په وجه نودقبر په مینځ کی دصندوق دشق دکیندلو څخه وروسته په هغه کی مړی کښیږدی، اولوړ ورباندی تخته یاکاڼی کښیږدی داهم درست دی باقی امور

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص٨۴٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٨. ظفیر

([2]). واللحد ان یحفر فی جانب القبلة من الارض حفیرة فیوضع فیها المیت وینصب علیها اللبن ویلحد لانه السنة وصفته یحفر القبر ثم یحفر فی جانب القبلة منه حفیرة فیوضع فیها المیت ویجعل ذلك کالبیت المسقف (رد المحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣۵ - ٨٣٦ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣۵ - ٢٣٦) . ظفیر

([3]). ویسوی اللبن علیه والقصب لا الاجر المطبوخ والخشب لو حوله اوفوقه فلا یکره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٦). ظفیر

کم چی خلاف سنت دی (۱) هغه دي پرېښوول سی. فقط (۲)

دقبر اطراف پخول اوکاڼي ورته لګول څنګه دي: سوال: (۳۰۰۷) زید دحفاظت اوعلامت دپاره دخپل مرحوم پلار دقبر څلور واړه طرفونه پخول اوپه مینځ کی خام پرېښوول اوپه سنګ مرمر باندی تاریخ کنده کول غواړي دجواز یی څه صورة سته اوکه نه؟

جواب: په شامی کی یی دصحیح مسلم داحدیث شریف نقل فرمایلی دی، نهٰی رسول الله ﷺ عن تجصص القبور وان یکتب علیها وان یبنی علیها، رواه مسلم (۳)، یعنی رسول الله ﷺ منع فرمایلی ده دقبرونو دپخولوڅخه اوپرهغه باندی دڅه دلیکلو څخه اودتعمیر کولو څخه، نوپه سوال کی ذکر سوی صورة درست نه دی. فقط

دپاخه قبر هوارول څنګه دي؟ سوال: (۳۰۰۸) دزید ددوکان په صحن کی یو زوړ خام قبر دی بعضو خلګو دزید شاته دغه قبر پوخ کړی دی، ښکاره ده چی په داسی کولو سره به باندی څراغ بلول کیږی اوعبادت به یی کیږی، نوپه زید باندی شرعًا ددغه قبر هوارول واجب دی اوکه نه؟

جواب: زید دغه قبر نړولی او ورانولی سی او هوارولی یی سی او هغه لره داسی کول درست دی، بلکی پوخ ساتل ددغه قبر جائز نه دی (۴). فقط

په کم قبرکی چی هډوکی راووزی په هغه کی دنوی مړی دفن کول څنګه دي؟ سوال: (۳۰۰۹) یوقبر وکنبل سو نوپه هغه کی دمړی هډوکی را ووتل نوپه هغه کی دنوی مړی ښخول جائزدی اوکه نه؟

جواب: هډوکی یوطرف ته ایښوول اونوی مړی په هغه کی ښخول درست دی (۵).

---

(۱). لهذا په سوال کی چی دکم رسم ذکر دی هغه بدعت دی ددغه پرېښوول ضروری دی. ظفیر

(۲). وحفر قبر فی غیردار مقدار نصف قامة فان زاد فحسن، ویلحد ولا یشق الافی ارض رخوة الخ ولاباس باتخاذ تابوت ولوحجر اوحدید له عند الحاجة کرخاوة الارض الخ ویسوی اللبن علیه والقصب علیه الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجنائز ج۱ ص ۸۳۵ وص ۸۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۳ – ۲۳۷) . ظفیر

(۳). مشکوٰة باب دفن المیت ص ۱۴۸، وردالمحتار باب صلوة الجنائز ج۱ ص۸۳۸ ، ط.س. ج۲ ص ۲۳۷. ظفیر

(۴). ولا یطلی للنهی عنه ولایرفع علیها بناء (درمختار) ای لایطلی بالجص بالفتح قوله لایرفع ای یحرم لو للزنیة ویکره لو للاحکام بعد الدفن (ردالمحتار ج۱ ص ۸۳۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۷) لمافی صحیح مسلم عن جابر قال نهی رسول الله ﷺ ان یجصص القبر وان یبنی علیه (ایضا ج۱ ص ۸۳۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۷). ظفیر

(۵). کما جاز زرعه والبناء علیه اذا بلی وصار ترابا (درمختار) زرعه ای القبر ولو غیر مغصوب وکذا یجوز دفن غیره علیه (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۰ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۸) قال في الفتح: ولا یحفر قبر لدفن آخر إلا إن بلي الاول فلم یبق له عظم إلا أن لا یوجد، فتضم عظام الاول ویجعل بینهما حاجز من تراب ؒ فالاولی إناطة الجواز بالبلاء، إذا لا یمکن أن یعد لکل میت قبر لا یدفن فیه غیره، وإن صار الاول ترابا لا سیما في الامصار الکبیرة الجامعة، وإلا لزم أن تعم القبول السهل والوعر، علی أن المنع من الحفر إلی أن لا یبقی عظم =

دوقف سوی قبرستان مځکه په کرایه ورکول اودجارو وهلو دپاره باندی ښځه مقررول درست نه دی: **سوال:** (٣٠١٠) هنده دجارو وهونکی په طور دیوه بزرګ پرمزار باندی ده مزار ته نژدی دمسلمانانو قبرونه دی دمسلمانانو قبرونه یی وران کړل اومځکه یی هواره کړه او هغه یی دیوه انجمن په ذریعه دژرندی چلولو دپاره په کرایه باندی ورکړل، نوایا دهغه داکار جائز دی؟ آیا دبزرګانو په مزار باندی دجارو وهلو دپاره دښځی مقررول جائزدی اوکه نه؟

جواب: زاړه قبرونه هوارول اوپه هغه کی تعمیر اوزراعت وغیره کول فقهاؤ درست لیکلی دی (١)، لیکن په وقف سوی قبرستان کی داسی کول درست نه دی چی قبرونه هوارکړی اوهغه مځکه په کرایه باندی ورکړی (٢)، اوجارو وهونکی ښځه په مزار باندی مقررول درست نه دی (٣). فقط

مړی بل ځای ته وړل اوپټول جائزدی اوکه نه؟ **سوال:** (٣٠١١) که یومړی په بل وطن کی مړ وی اودهغه دوصیت مطابق خپل وطن ته وی وړل سی، او وطن یی دپنځوسو میلو په فاصله کی وی نوایا دا بالکل حرام دی یامکروه تحریمی اوکه نه تنزیهی دی، ځکه چی ولی یی په وطن کی وی، په دی خیال سره وړل یی درست دی اوکه نه دبعضو احادیثو مبارکانو څخه ددی ثبوت پیدا کیږی، عبدالرحمٰن بن ابی بکرؓ صحابه کرامو ﷺ مکی معظمی ته راوړی اوپټ کړی یی وو دافعل دصحابه ؤ ﷺ دی، دجواز دپاره دومره حجت کافی دی اوکه نه؟ په شامی اوپه درمختار کی یی لاباس به لیکلی دی، زماغرض دادی چی ددی متعلق لویه فتنه جوړه سویده، لهٰذا جواز یاعدم جواز چی کم جانب راجح وی په مفصل طور سره یی تحریر وفرمایاست؟

جواب: قال فی شرح المنیة الکبیر ویستحب فی القتیل والمیت دفنه فی المکان الذی مات فیه فی مقابر اولئك القوم وان نقل قبل الدفن قدر میل او میلین فلا باس به قیل هذا التقدیر عن محمد یدل علی ان نقله من بلد الی بلد لا یجوز اومکروه ولان مقابر بعض البلدان ربما بلغت هذه المسافة ففیه ضرورة

= عسر جدا الخ (ردالمحتار مطلب فی الدفن ج١ ص ٨٣٥ ، ط. س. ج٢ ص٢٣٣). ظفیر

(١). کما جاز زرعه والبناء علیه اذا بلی وصار ترابا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٤٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٨). ظفیر

(٢). فاذا تم ولزم لایملك ولایعار ولایرهن (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الوقف ط. س. ج٢ ص ٥٣١). ظ

(٣). وبزیارة القبور وهو للنساء (درمختار) وقیل تحرم علیهن الخ وان کان للاعتبار والترحم من غیر بکاء الخ فلا باس اذا کن عجائز ویکره اذا کن شواب کحضور الجماعة فی المساجد اهـ وهو توفیق حسن (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٤٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤٢) ددی څخه معلومه سوه چی دښځی جارو کشی به په درجه اولی جائزنه وی ځکه چی دفتنی اندیښنه ده. والله تعالی اعلم . ظفیر

ولا ضرورة فی النقل الی بلد آخر وقیل یجوز ذلك ما دون السفر لما روی ان سعد بن وقاص مات فی قریة علی اربعة فراسخ من المدینة فحمل علی اعناق الرجال الیها وقیل لا یکره فی مدة السفر ایضاً واما بعد الدفن فلا یجوز اخراجه الخ ([1])، اوشامی د درمختار ددی قول، **فلا باس بنقله قبل دفنه**، په شرح کی لیکلی دی، قيل قيل مطلقا، وقيل إلى ما دون مدة السفر وقيده محمد بقدر ميل أو ميلين، لان مقابر البلد ربما بلغت هذه المسافة فيكره فيما زاد. قال في النهر عن عقد عقد الفرائد: وهو الظاهر اه الخ ([2])، ددی عبارتونو څخه واضحه ده چی ددفن کولو څخه مخکی دمړی په نقل کولو کی اختلاف دی، بعض علماء کرام ورته جائز وایی او بعض ورته ناجائز او مکروه وایی، اوښکاره دمکروه څخه مراد مکروه تحریمی دی اودصاحب نهر دیته هو الظاهر ویل ددی دترجیح تقاضا کوی. فقط

<u>په قبرکی قبلی ته مخ کول اوپه راسته اړخ باندی څملول</u>: سوال: (٣٠١٢) په قبرکی دمړی مخ دقبلی طرف ته کول ضروری دی، اوکه په راسته اړخ باندی څملول یی سنت دی؟

جواب: دفقهی په کتابونو کی یی لیکلی دی چی . ویوجه الیها وجوبًا، اومړی دي توجه سی دقبلی طرف ته وجوبا، اوداواجب دی، اوپه شامی کی یی لیکلی دی، لکن صرح فی التحفه بانه سنة ([3])، یعنی په تحفه کی یی داتصریح کړیده چی دقبلی طرف ته مړی متوجه کول سنت دی، اوپه درمختار کی دی، وینبغی کونه علی شقه الایمن ([4])، او مناسب دی چی مړی دي په راسته طرف باندی وی. فقط

<u>ددفن څخه وروسته داویا قدمه لیری کیدلو څخه وروسته دعا غوښتل بدعت دی</u>: سوال: (٣٠١٣) دمړی ددفن کولو څخه وروسته اویا قدمه وروسته کیدل اوددعا غوښتل څنګه دی؟

جواب: دمړی ددفن کولو څخه وروسته اویا قدمه وروسته کیدل اوددعاء غوښتل بدعت اومذموم اوناجائز دی.

<u>پرکفن باندی کلمه شریفه لیکل</u>: سوال: (٣٠١٤) دمړی په کفن باندی په خاوری سره کلمه شریفه لیکی، اودمړی په قبرکی داینبولو څخه وروسته په یوه خامه خښته باندی کلمه شریفه په لرګی سره ولیکی اودمړی دسر سره یی دمغرب طرف ته کښیږدی، ددی څخه علاوه دخاوری په یو څو وړو، وړو کوټو باندی په حاضرینو کی یو سړی، چار قل شریف

([1]). غنية المستملی ص ٥٢٣ . ظفير

([2]). ردالمحتار باب الجنائز ج١ ص ٨٤٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٩. ظفير

([3]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٧ – ٨٣٨ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٦. ظفير

([4]). شامی ، ایضاً حواله بالا .

ووایی، اوتهولی لوتی دمړی سره په لحد کی اچوی، داکارونه جائزدی اوکه نه؟
جواب: داټول کارونه دشریعت څخه خلاف دی اوددی هیڅ څه اصل نسته، داسی رسمونه پریښوول په کاردی.
دقبر لحدته دښانک لګول څنګه دی؟ سوال: (٣٠١٥) دقبر لحدته خاورین پوخ ښانک ایښوول څنګه دی؟
جواب: په درمختار کی دی، ویسوی اللبن علیه والقصب لا الاجر المطبوخ والخشیب لو حوله اما فوقه فلایکره الخ، ددی عبارت څخه واضحه ده چی پخه خښته اوپه اور کی پوخ سوی ښانك دقبر چاپیره ایښوول مکروه دی اوکه چیری ضرورت وی، نودرست دی. قال مشائخ بخارا لایکره الاجر فی بلدتنا للحاجة الیه لضعف الاراضی، شامی. فقط
دامبار والا په مځکه کی خاوره اچول اوقبر پکښی جوړول څنګه دی؟ سوال: (٣٠١٦) پر کمه مځکه چی دمودی راهیسی اودس مات اچول کیږی چی په هغه کی خاوره واچوی، او وروسته په هغه کی مړی پټیږی نودا کار ښه دی اوکه نه؟
جواب: په حدیث شریف کی دی، زکوٰة الارض یبسها، یعنی پلیته مځکه په وچیدلو سره پاکه سی، نوکله چی په دغه کنده کی خاوره واچول سوه اودغه مځکه وچه ده نوپاکه ده، په هغه کی دمړی پټول درست دی. فقط
په قبر باندی اذان کول بدعت دی: سوال: (٣٠١٧) دمړی په قبر باندی اذان کول مسنون دی اوکه نه بدعت سیئه تحریمه دی که چیری مسنون وی نوعبارت ددرمختار په باب الاذان، اوپه باب الجنائز اوعبارت مائة مسائل اوعبارت دتفسیر مظهر العجائب او عبارت دتوشیح اوعبارت ددر البحار سره دحروفو اوصفحاتو په نقل فرمایلو سره بالتصریح جواب راکی اوکه چیری بدعت سئیه تحریمیه وی نو وجوهات دزید چی اذان ذکردی، اذان تلقین بعد التدفین دی، اذان دمنکر او دتکبیر په وخت کی فائده ورکوی، اذان تکبیردی کم چی دسع بن معاذؓ پرقبر باندی سویدی، اودحدیث مبارك: اذا رایتم الخرق فکبروا، څخه ثابت دی، اذان دعاء ده، اذان عمل صالح دی، اذان ددعا داجابت سبب دی، اذان ذکر درسول الله ﷺ دی، اذان سبب درحمت دی، اذان دمړی وحشت لیری کوی، اذان غم اوهم دفع کوی؟
جواب: په قبر باندی اذان کول دسنتو څخه خلاف اوبدعت سیئه دی لکه څه رکم چی دفقهاؤ دتصریحاتو څخه ثابته ده، اوکم وجوهات چی زید بیانوی هغه ټول باطل دی، اودهغه په عدم تدبر اوجهالت باندی دلالت کوی اذان بی شکه ذکردی، لیکن دکم ذکر دپاره چی کمه موقع شاریع ﷺ مقرره فرمایلی ده، هغه په هم هغه ځای کی لرل لازم دی

کنی دابه تعدی عن حدوداللہ سی، ومن یتعد حدود اللہ فاولٰئك هم الظلمون، احداث فی الدین همدادی چی په دین کی په خپلی رایه اوقیاس سره تخصیصات اوتقیدات مقررول اوکمه موقعه چی دکم ذکر نه ده هغه په هغه موقعه کی معمول به جوړول: عن نافع: أن رجلا عطس إلى جنب ابن عمر فقال : الحمد لله والسلام على رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ابن عمر: وأنا أقول : الحمد لله والسلام على رسول الله وليس هكذا . علمنا رسول الله صلى الله عليه وسلم أن نقول : الحمد لله على كل حال ([1])، **صاحب لمعات ددی په شرحه کی لیکلی دی،** قوله ليس هكذا اى لٰكن ليس المسنون فى هذه الحال هذا القول وانما الذى علمنا فيه ان نقول الحمدلله على كل حال فقط من غير زيادة السلام فيه الى ان قال فالزيادة فى مثله نقصان فى الحقيقة كما لايزاد فى الاذان بعد التهليل، محمد رسول الله، وامثال ذالك كثيرة انتهٰى ([2]) **نو معلومه سوه چی دخپل طرف څخه داسی اختراعات کول په حقیقت کی نوی شریعت جوړول دی، دزید داقیاسات بعینه داسی دی چی یو سړی دمانبام لمونځ مثلا ددری رکعاتو پرځای څلور رکعاته مقرر کړی چی په دی کی دقرآن پاك ویل اورکوع او سجده او تسبیح او تحمید وغیره دی او دا ټول عبادات او اذکار دی، حاصل دا چی دمبتدعینو همدا حال دی چی په همدی قسم استدلالاتو سره امور محدثه مخترعه فی الدین ته جائز وایی، همدا وجه ده چی جناب نبی کریم ﷺ دبدعت اودمبتدع نهایتی مذمت فرمایلی دی،** قال ﷺ ما احدث قوم بدعة الا رفع مثلها من السنة فتمسك بسنة خير من احداث بدعة ([3]) وعن ابراهيم بن ميسرة قال: قال رسول الله ﷺ من وقر صاحب بدعة فقد اعان على هدم الاسلام رواه البيهقى فى شعب الايمان مرسلا ([4])، **نو دخپلو فاسدو قیاساتو په بناء باندی پرقبر باندی داذان ویل احداث فی الدین دی، په شامی کی دی:**

تنبيه: في الاقتصاد على ما ذكر من الوارد إشارة إلى أنه لا يسن الاذان عند إدخال الميت في قبره كما هو المعتاد الآن، وقد صرح ابن حجر في فتاويه بأنه بدعة. وقال: ومن ظن أنه سنة قياسا على ندبهما للمولود إلحاقا لخاتمة الامر بابتدائه فلم يصب اهـ. وقد صرح بعض علمائنا وغيرهم بكراهة المصافحة المعتادة عقب الصلوات مع أن المصافحة سنة، وما ذاك إلا لكونها لم تؤثر في خصوص هذا الموضع، فالمواظبة عليها فيه توهم العوام بأنها سنة فيه، ولذا منعوا عن الاجتماع لصلاة الرغائب التي أحدثها بعض المتعبدين لانها لم تؤثر على هذه الكيفية في تلك الليالي المخصوصة ، وإن كانت الصلاة خير

([1]). مشکوٰة المصابیح باب العطاس والتثاؤب فصل ثالث ۴۰۲. ظفیر

([2]). حاشیه مشکوٰة باب العطاس والتثاؤب ص ۲۰۴. ظفیر

([3]). مشکوٰة باب الاعتصام بالکتاب والسنة فصل ثالث ص ۳۱. ظفیر

([4]). ایضا . ظفیر

موضوع. انتهٰی (۱) فقط

پرزوړ قبر باندې په خاوره اچولو کې بدیت نسته: **سوال**: (۳۰۱۸) کم قبر چې پریوزي یا کښیني نوخلګ دنوی سره هغه پوره قبر تیاروی نودا شرعا جائزدی اوکه نه دی؟

جواب: په دي کې څه حرج نسته (۲).

دقبر دمکمل کیدلو څخه وروسته که څوک راسی اوخاوره واچوی نوڅه حکم دی: **سوال**: (۳۰۱۹) که چیری پرمړی باندی دخاورو داچولو څخه وروسته یو سړی راسی، نو وروسته هغه لره خاوره اچول پکار دی اوکه نه؟

جواب: دقبر دمکمل کیدلو څخه وروسته بیا دخاوری اچولو ضرورت نه ستته.

په زوړ قبر کې دمړي پټول څنګه دي؟ **سوال**: (۱\۳۰۲۰) که چیری اتفاقا دقبر دکیندلو په وخت کې په لحد کې دیوه زوړ مړی هډوکی یا ډانچه (جسه، بدنه) راووزی، نوپه دغه لحدکی نوی مړی کښی ښوول سی اوکه نه بل قبر ورته وکیندل سی، اوسره دلیدلو او د پوهیدلو په زوړ قبر کی دمړی ښخول څنګه دی؟

کم ماشوم چې مړ پیداسی هغه دي پټ سی: **سوال**: (۲\۳۰۲۱) کم ماشوم چې مړ پیدا سی نوهغه په قبر کی دلحد په کیندلو سره کښی ښوول سی اوکه نه کنده ورته وکښل سی او دکفارو په شان ښخ سی؟

جواب: ۱\: په حالت دمعلومتیا کی زوړ قبر په حالت دموجودګی دمړی کی بغیر دضرورت څخه کیندل جائزنه دی، اوکه چیری اتفاقا دقبر دکیندلو په وخت کی دبل مړی هډوکی راووزی نوهغه یوطرف ته کړی اوڅه قدر په مینځ کی پرده کښیږدی اوبل مړی ورسره پټ کړی داجائز دی ځکه چی دمړی دختمیدو څخه وروسته جواز مختاردی څنګه چی په شامی کی دعلماؤ داقوالو دنقل کولو څخه وروسته یی دا لیکلی دی: فالاولی اناطة الجواز بالبلاء اذ لایمکن ان یعد لکل میت قبر لایدفن فیه غیره (۳) ج۱ ص ۹۳۳، اودختم کیدو څخه مخکی داسی کول یی ناجائز ګرځولی دی لکه چی لیکی، وما یفعله جهلة الحفارین من نبش القبور التی لم تبل اربابها وادخال اجانب علیهم فهو من المنکرات الظاهر (۴). فقط

۲\: کنده کیندل او په هغه کی د مړی اچول صرف د کافر او د مرتد دپاره ویل سوی دی

---

(۱). ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب دفن المیت ج۱ ص ۸۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۲. ظفیر

(۲). حواله یې مخکی تیره سویده. ظفیر

(۳). ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی دفن المیت ج۱ ص ۸۳۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۴. ظفیر

(۴). ایضا ط. س. ج۲ ص ۲۳۳. ظفیر

دمسلمانانو داولاد دپاره كله چې هغوی مړه پيداسی داسی كول مې چيری دنظر څخه تيرنه سو، صرف دلمانځه اودكفن په باره كې داذكر كوی چې ادرج فی خرقة ودفن ولم يصل عليه اهـ درمختار (١)، بلكې ددفن اطلاق او دحفر نه ويل ددې مشعِر (آگاهی وركوونی) دی چې دفن معهود (په سمه طريقه سره ښخول) ورڅخه مراد دی. فقط

دبغلی قبر لوړوالی څومره پكاردی؟ سوال: (٣٠٢٢) قبر كه بغلی وی او كه ساده وی. بغلی ياساده خودومره ژور وی چې انسان پكښی كښېنستی سی، ليكن داسنداً وفرمايی چې جګړه رفع سی او فيصله وسی؟

جواب: په حديث شريف كی په دی باره كی وارد سوی دی، احضرو واوسعوا واعمقوا واحسنوا، يعنی قبر وكاږی اوفراخه يې كړی اوژور يې كړی اوښه يې كړی. دفقهی په كتابونو كی يې داليكلی دی، وحضر قبره مقدار نصف قامة فان زاد فحسن (٢)، در مختار، يعنی دژوروالی مقدار دي دنيم قد هومره وی اوپه شامی كی دی چې كه چيری دقبر ژوروالی دپوره قد برابروی نوډيره ښه ده، الغرض ادنٰی درجه داده چې دنيم قد برابر وی اواعلٰی درجه داده چې دپوره قد برابروی اودلحد په باره كی دومره قدر ده چې دومره فراخه دي وی چې مړی پكښی څملولی سی په دی كی داقيد هم ضروری نه دی چې دومره ژوروی چې مړی په هغه كی كښېنستلی سی، كه چيری كيدی سی نوښه ده، كنی كه څه كم وی نوهم څه حرج يې نسته، اوزموږ په مذهب كی دلحد جوړول ښه دی، يعنی په قبر كی دننه يوه اړخ ته دي لحد وكيندل سی چې مړی په كی كښی ښوول سی باقی په دی كی دجګړی كولو هيڅ خبره نسته. مختصر داچې قبر ژور كړل سی، اوپه هغه كی لحد جوړسی نودا ښه ده اوكه چيری دمځكی دنرم والی په وجهی سره په مينځ كی شق وكړی يعنی دقبر په مينځ كی يوه ژوره كنده وكښل سی په كمه كی چې مړی كښيږدی اولوړ باندی بانس ياخامی خښتی كښې ښوول سی چې مړی ورسره پټ سی نو داهم درست دی بيادي باندی لوړ خاوره واچول سی، نو داطريقه دقبر دكيندلو ده په دی كی هيڅ څه دجګړی خبره نسته. فقط

كم قبر چې خلاص سی هغه به څرنګه بندوی؟ سوال: (٣٠٢٣) په غريزه علاقه كی قبرونه صندوقی جوړيږی اوتختې په كال يا شپږو مياشتو كی ورستې سی اوماتی سی اومړی اكثره وخت راپورته سی، دغه قبر به څرنګه بنديږی، آيا سربيره باندی لرګی ولګوی اوخاوری پر واړوی اوكه همدغسی دمړی پربدن باندی خاوره واچوی؟

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٤. ظفير

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٥ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٨. ظفير

دزيات باران والا پرځاى باندى دتختې پرځاى كانږى: **سوال:** (٣٠٢٤) چونكه تختې پر قبرونو باندى په لګولو سره دډير باران په وجهى سره ژر ايسته سى نو دتختو پر ځاى دكاڼو لګول جائز دى اوكه نه؟

جواب: ١. بهتره داده چي لرګى يا كاڼى پركښېږدى، اوخاوره پرواچول سى. (١) فقط

جواب: ٢. درست دى. (٢) فقط

كه دمړي دښخولو څخه وروسته قبر كښېنى نوڅه به كوى؟ **سوال:** (٣٠٢٥) كه چيرى دمړى ښخولو په وخت كى دنيم قبر تياريدلو څخه وروسته قبر كښېنى نوڅه كول پكار دى؟

كه دمړي داېښوولو څخه وروسته قبر كښېنى؟ **سوال:** (٣٠٢٦) چي په قبركى مړى كښېږدى خاورى پر واچوى او دتياريدلو په وخت كى قبر كښېنى نومړى راوباسى، اوپه بل قبر كى يې كښېږدى اوكه څنګه كول پكار دى؟

جواب: ١، ٢. په اولنى صورت كى دى بل قبر وكيندل سى يا همدغه دى صفا كړى او سم دى كړى، اوپه دوهم صورت كى دى مړى نه را باسى، بلكه سربيره دى باندى خاوره سمه كړل سى، ولى چي دښخولو څخه وروسته دقبر څخه دمړى كښل صحيح نه دى، كما فى الدرالمختار: ولا يخرج منه بعد اهالة التراب الا لحق آدمى. (٣) فقط

په زاړه قبر كى دمړي ښخول جائزدى اوكه نه؟ **سوال:** (٣٠٢٧) په زوړ قبر كى دمړى ښخول جائز دى اوكه نه؟

جواب: په كم زوړ قبر كى چي دمړى نښان باقى پاته نه سى په هغه كى دمړى ښخول درست دى. كما فى الشامى وقال الزيلعى ولوبلى الميت وصار ترابًا جاز دفن غيره فى قبره الخ، باب الجنائز (٤). فقط

دبل چاپه كور كى جنازى لره دغسل وركول څنګه دى: **سوال:** (٣٠٢٨) يوكور جوړسوى وو ليكن دروازه يې نه وه، دكور سره نژدى په لاره كى يوه ليونۍ ښځه مړه سوه يوڅو مسلمانانو دغه مړى رالوړ كى اوپه ذكر سوى كور كى دننه يې كښې ښوولې اوهغې لره يې غسل اوكفن وركى او يويې وړله، ددى كار اجازه يې دكور دمالك څخه وانه خيسته دكور پرمالك باندى داكار ډير ناخوښه ولګيدى، نودا كار څنګه وسو؟

---

(١). و (٢). ولا باس باتخاذ تابوت ولو حجر اوحديد له عند الحاجة كرخاوة الارض ﴿ وتحل العقدة ﴿ ويسوى اللبن عليه والقصب لا الاجر المطبوخ والخشب لو حوله اما فوقه فلا يكره (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فى دفن الميت ج١ ص ٨٣٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٤). ظفير

(٣). الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الجنائز ج١ ص ٨٣٩ ، ط. س. ج ٢ ص ٢٣٧. ظفير

(٤). ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب في دفن الميت ج١ ص ٨٣٥ ، ط. س. ج ٢ ص ٢٣٣. ظفير

جواب: دایو ضروری کار وو دټولو مسلمانانو په ذمه فرض وو، دکور دمالك ناخوښی بی ځایه ده، دهغه په کور کی په دي کار سره څه نقصان رانغی. فقط

دعذر په وجه مړی په تابوت کی اچول اوپټول او وروسته یی بل ځای ته وړل څنګه دی؟

سوال: (٣٠٢٩) که چیری دعذر په وجه مړی په تابوت کی واچوی اوپه کور کی یی پټ کړی اودعذر دختمیدلو څخه وروسته مړی دتابوت څخه ایستل اوپه بل ځای کی یی دفن کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دپټولو څخه وروسته مړی یا دهغه تابوت دقبر څخه ایستل درست نه دی، ولا يخرج منه بعد اهانة التراب الا لحق ادمی كان تكون الارض مغصوبة اواخذت بشفعة ([1])، **درمختار**.

په مړی باندي دي هرسړي څومره خاوره واچوی: **سوال**: (٣٠٣٠) دمړی دپټولو څخه وروسته هرسړی لره څومره خاوره اچول په کاردی؟

جواب: په دي کی څه تحدید نسته، ښه داده چی دری لپی خاوره واچوی ([2]). فقط

دمړی په بدن باندي خاوره اچول دسنتو څخه خلاف دي: **سوال**: (٣٠٣١) په دی اطرافو کی مړی په داشان پټوی چی یوه کنده تیاره کړی اوپه هغه کی مړی دقبلې مخ ته څملوی اولحدياشق وغیره نه کوی بلکی همدغسی خاوری باندی واچوی، داسی کول څنګه دی؟

جواب: په درمختار کی دی، ويلحد الخ قوله ويلحد لانه السنة الخ ([3]) شامی، نو معلومه سوه چی دلحد کښل سنت دی اودلحد متعذر کیدلو په صورة کی شق کښل پکاردی بغیر دلحد اودشق څخه په مړی باندی هم داسی خاوره اچول خلاف سنت دی، نوکم خلګ چی داسی کوی هغوی دسنتو پرینښوونکی دی هغوی ته دسنتو طریقه ښوول پکار دی ([4])، اوآئنده نصیحت کول ورته پکاردی چی داسی نه کوی، بلکه دسنت طریقې موافق دی پټوی، جاهلانو ته دشریعت داحکام ښوولو کار دعالمانو پر ذمه دی داغفلت دهغه علماؤ دی چاچی هغوی ته په مسنونه طریقی سره ددفن کولوښوونه نه ده کړی. فقط

دقبر پخولو او دقبی جوړولو په باره کی شریعت څه وایی ؟ سوال: (٣٠٣٢) قبر پوخ جوړول

([1]). الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الجنائز ج١ ص ٨٣٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٧. ظفير

([2]). ويستحب حثيه من قبل رأسه ثلاثا (درمختار) حثيه اى بيديه جميعا (ردالمحتار ج١ ص٨٣٨ ، ط. س. ج٢ ص٢٣٦).

([3]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٥. ظفير

([4]). وحفر قبره فى غير داره مقدار نصف قامة فان زاد فحسن الخ ويسوى اللبن عليه والقصب الا الاجر المطبوخ والخشب لوحوله اما فوقه فلايكره الخ ويهال التراب عليه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٥ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٣ – ٢٣٥) وصفة الشق ان تحفة حفيرة كالنهر وسط القبر وبين جانباه باللبن اوغيره ويوضع الميت فيه ويسقف (عالمگیری مصری فصل سادس دفن ج١ ص ١٥٥ ، ط. ماجدیه. ج٢ ص ١٢٥ – ١٢٢). ظفير

اوپه هغه باندی قبه جوړول داحادیثو مبارکو څخه ثابت دی اوکه نه؟ اوکه چیری دیوی لویشتی په اندازه نخښی په طور سره پوخ سی نوپه دی کی څه حرج خونسته، دحضور ﷺ روضه مبارکه دکله څخه جوړه سویده؟ اوجوړ سوی (پوخ) قبر ورانول څنګه دی؟

جواب: دقبر دپخولو اوپه هغه باندی دڅه ابادی کولو منعوالی په حدیث شریف کی راغلی دی، دحدیث الفاظ دادی، نهٰی رسول الله ﷺ عن تجصیص القبور وان یکتب علیها وان یبنی علیها، رواه مسلم ([1])، اوپه شامی کی یی نقل کړی دی، وقیل لایکره البناء اذا کان المیت من المشائخ والعلماء والسادات الخ ([2])، لیکن دقبرونو دورانولو حکم فقهاؤ چیری نه دی کړی، اودبعضو اثارو څخه دقبی ثبوت معلومیږی، لکه څنګه چی منقول دی چی حضرت عمر ﷺ چی کله دحضرت ابراهیم علی نبینا وعلیه الصلاة والسلام قبر مبارك ته ورسیدی نوهلته یی دوه رکعاته نفل وکړل اودقبی دورانولو حکم یی ونه فرمایی، لهذا چا چی دقبی دنړولو داحکم وکی نوښهٔ یی ونه کړل، اوپرقبر باندی څه نښانه ایښوول پخپله دحضور ﷺ دفعل څخه ثابت دی. کما ورد فی الصحاح ([3])، او دحضرت عمر ﷺ داثر څخه معلومه سوه چی دهغوی په زمانه کی هم دقبو وجود وو. والتفصیل فی کتب السیر. فقط

<u>دقبر سر اوپښوته بعضی مخصوص ایتونه ویل څنګه دی؟</u> سوال: (۳۰۳۳) کله چی مړی په قبر کی کښیږدی اوقبر تیارسی نوهغه وخت یوسړی دمړی سرته ودریږی اودسورة بقری اولنی دری ایتونه وایی اوپه ګوتی سره اشاره هم کوی اوبل سړی دپښوطرف ته ودریږی اودسورة بقری اخری رکوع وایی نوددی دویلو سره مړی ته څه ثواب ورکول کیږی اوکه نه؟ دحدیث شریف څخه ددی ثبوت سته اوکه نه؟ اودګوتی سره دقبر طرف ته اشاره کول څنګه دی؟ کم خلګ چی (دغه ایتونه) نه وایی هغوی مورد دعتاب دی اوکه نه؟ یعنی څوك چی ددی پرینښوونکی دی هغوی ګنهګاردی اوکه نه؟

جواب: دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی چی دقبرونو سرته دسورة بقری اول ایتونه اودپښو طرف ته دسورة بقری اخری آیتونه ویل مستحب دی. په شامی کی دی، وکان ابن عمر ﷺ یستحب ان یقرأ بعد الدفن اول سورة البقرة ([4]) وخاتمها اوپه مشکوٰة

([1]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۳. ظفیر

([2]). ایضا ط. س. ج۲ ص ۲۳۷. ظفیر

([3]). اخرجه ابوداود باسناد جید ان رسول الله ﷺ حمل حجراً فوضعه عند راس عثمان مظعون وقال: اتعلم به قبر اخی وادفن الیه من مات من اهلی (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۸). ظفیر

([4]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز تحت قوله ویستحب حثیه الخ ج۱ ص ۸۳۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۷. ظفیر

شریف کی یی داروایت دحضور ﷺ طرف ته مرفوع کړی دی، بیایی دبیهقی څخه نقل کړی دی چی صحیح داده چی روایت موقوف دی پرحضرت ابن عمر ﷛ باندی (۱)، بهر حال ددی روایت څخه ددی کار مستحب والی ثابت سو لیکن پرقبر باندی دګوتی ایښولو څه ثبوت نسته، اوکله چی دامعلومه سوه چی داکار مستحب دی نوکه چیری څوك یی ونه کی نوموجب دطعن اودعتاب نه دی اوترك کونکی یی ګنهګارنه دی. فقط

که حملداره ښځه مړه سی نوخه رکم به پټیږي؟ سوال: (۳۰۳۴) کله چی حملداره ښځه وفات سی نوهغه به دماشوم سره دفن کیږی اوکه دهغې خیټه وڅیری اوماشوم ځینی را وایستل سی؟

جواب: که چیری حملداره ښځه مړه سی نو ودی کتل سی چی که چیری ماشوم پوره وی اوپه خیټه کی ژوندی وی چی حرکت کوی نو دوفات سوی ښځی خیټه دي څیری سی اوژوندی ماشوم دي ځینی راوکښل سی اوکه چیری په ماشوم کی لاساه نه وه راغلی یا خو راغلی وه لیکن معلومه سوه چی هغه مړسو، ژوند، اوهیڅ حرکت پکښی نسته، نودغه وفات سوی ښځه دي سره دماشومه پټ کړی، په درمختار کی دی ،حامل ماتت وولدها حیّ یضطرب شق بطنها من الایسر ویخرج ولدها ولو بالعکس وخیف علی الام قطع واخرج الخ (۲).

دپټولو وصیت کول څنګه دی اودیو ځای څخه بل ځای ته دمړی وړل څنګه دی؟ سوال: (۳۰۳۵) زما ورور دمودی راهیسی ناجوړی وو، مرض یی دومره زیات سوچی دژوند څخه ناامیده سو، په دی حالت کی مریض داوصیت وکی چی زماپه باغ کی ماپټ کی زه دحکیم راوستلو دپاره تللی وم، زماپه غیر موجودګی کی زما ورور وفات سو چونکی زه موجود نه وم، دکورنی نورو وړونو می مرحوم دخپل وصیت څخه خلاف په بل ځای کی پټوی نواوس زه دخپل ورور مړی یا هډوکی هرڅه چی وی دقبر څخه را ایستلی سم او دهغه دوصیت مطابق یی په باغ کی پټولی سم اوکه نه؟ که نه وی نو دقیامت په ورځ به زما څخه دوصیت په باره کی مؤاخذه کیږی اوپرما به ګناه وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی دهغه جوسه یاهډوکی را ایستل اوپه باغ کی پټول یی درست نه دی، دمړی قبر په دی وجه سره کیندل او کښل حرام دی (۳)، دداسی وصیت هیڅ اعتبار

---

(۱). فقد ثبت انه ﷺ قرأ اول سورة بقرة عند راس میت واخرها عند رجلیه (ردالمحتار ج۱ ص ۸۴۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۷). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۰ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۸ ظفیر

(۳). واما نقله بعد دفنه فلا مطلقا (ردالمحتار باب صلوٰة الجنائز ج۱ ص ۸۴۰ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۹) ولا =

نه وی، اوپه تا باندی هیڅ ګناه په بل ځای کی ددفن کولو په وجهی سره نسته. ([1]) فقط

دمړی دپټولو څخه وروسته اذان درست نه دی: **سوال**: (۳۰۳۶\۱) دمړی دپټولو څخه وروسته په قبر باندی اذان کول درست دی اوکه نه؟

دپټولو څخه وروسته تلقین درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۰۳۷\۲) دپټولو څخه وروسته تلقین کول جائز دی اوکه نه؟ که جائز وی نوڅه رکم؟

جواب: \۱: درست نه دی، کذا فی الشامی ([2]).

۲\: تلقین بعد الدفن فقهاء وو جائز لرلی ([3]) دی. فقط

دقبرعذاب: **سوال**: (۳۰۳۸) دقبرعذاب حق دی اوکه نه؟ اودقبر عذاب کله کیږی؟

جواب: دقبر عذاب حق دی اوهغه وخت شروع کیږی کم وخت چی (مړی) پټ سی او (خلګ ځینی واپس راسی ([4]). فقط

ددفن څخه وروسته دعاء: **سوال**: (۳۰۳۰) دمړی دپاره دعاء کول چی دمنکر او نکیر په جواب کی ثابت قدمه اوسی اودتخفیف دپاره کلمه ویل دپټولو څخه وروسته جائزدی اوکه نه؟

جواب: داجائز دی، دکلمی ویل کوئ اودمړی دپاره دمنکر اودنکیر په جواب کی دثابت قدم اوسیدو دعاء کوئ ([5]). فقط

که په یوکور کی هندوان او مسلمانان وسوزی او تمیز یی نه وی نوڅه به کیږی؟ **سوال**: (۳۰۴۰) په یوځای کی لس پنځه مسلمانان اولس پنځه هندوان وه، اور ولګیدی اوټول وسوزل اوهیڅ څه نښانه داسی نسته چی وپیژندل سی، نواوس څه کول په کاردی؟

جواب: که چیری مسلمانان زیات وه، نوټولو مړو لره دی دمسلمانانو په شان کفن ورکول

= یخرج منه بعد اهالة التراب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص ۸۳۹). ظفیر

[1]. اوصی بان یصلی علیه فلان اویحمل بعدموته الی بلد اٰخر اویکفن فی ثوب کذا الخ فهی باطلة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الوصایا ج۵ ص ۵۸۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۲). ظفیر

[2]. فی الاقتصار علی ماذکر من الوارد انه لایسن الاذان عند ادخال المیت فی قبره کما هو المعتاد الان وقد صرح ابن حجر فی فتاویه بانه بدعة (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۵). ظفیر

[3]. قال فی شرح المنیة الجمهور علی ان المراد محازة ثم قال وانما لاینهی عن التلقین بعد الدفن لانه لاضررفیه بل فیه نفع الخ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی التلقین بعد الموت ج۱ ص ۷۹۷ ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۱). ظ

[4]. وضغطة القبر حق الخ وعذابه ای ایلامه حق للکفار کلهم اجمعین وبعض المسلمین ای عصاة المسلمین فقد ورد ان القبر روضة من ریاض الجنة اوحفرة من حضرت النیران رواه الترمذی (شرح فقه اکبر ص ۱۲۲). ظفیر

[5]. ویستحب حثیه من راسه ثلاثا وجلوس ساعة بعد دفنه للدعاء وقرآءة بقدر ما ینحر الجزور ویفرق لحمه (در مختار) لمافی سنن ابی داود کان النبی ﷺ اذا فرغ من دفن المیة وقف علی قبره وقال استغفروا لاخیکم واسئلوا الله التثبیت فانه الان یسئل (ردالمحتار باب الجنائز ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۲). ظفیر

سی اولمونځ دي باندی وسی اوپه لمانځه کی دي صرف دمسلمانانو نیت وسی او د مسلمانانو په قبرستان کی دي دفن سی، اوکه چیری کافران زیات وه، نوهم دي ورسره همدا معامله وکړل سی، لیکن دمشرکانو په مقبره کی دي دفن سی، اوکه چیری په یو مستقل جلا ځای کی دهغوی قبرستان جوړسی نواحتیاط (پکښی) دی. درمختار باب غسل المیت ([1]).

دشیعه ګانو او دنرښځانو په قبرستان کی تدفین: سوال: (٣٠۴٢) دګورستان په مځکه کی چی په قیمت ورکولو سره سره دهر مذهب اوفرقی خلګ دمړی په دفن کولو اختیار لری په هغه مځکه کی معزز حنفی دفن کول چیری چی شیعه ګان، نرښځیان وغیره دفن وی څنګه دی؟

جواب: دضرورت په وجه درست دی لیکن که چیری دصالحانو نژدی والی نصیب کیدی سی نو دابنه ده ([2]). فقط

ماشوم دمور اودپلار تابع وی: سوال: (٣٠۴٣) دشیعه ګنلو په وجه دزید مړی په ګورستان کی ښخیدلو ته نه پریښوول څنګه دی؟ دزید مړی صرف ددری کالو وو، هغه معصوم وو اوکه نه؟ که چیری معصوم وو نودهغه په دفن کولو کی څه حرج وو؟

جواب: داسی ماشوم دخپل مور اوپلار تابع ګڼل کیږی، که چیری دهغه په مور اوپه پلار کی یوهم سنی اومسلمان وی نوماشوم ته به هم سنی مسلمان ویل کیږی ([3]). فقط

مزارات اوقبی جوړول اوپه کور کی دننه پټول څنګه دی؟ سوال: (٣٠۴۴) دبادشاهانو او د اولیاء کرامو پرمزاراتو باندی چی کمی قبی جوړی دی دا دکتاب موافق دی اوکه نه په دی کی څه کلام سته که چیری دحضور ﷺ دمزار پُرانوار دقبی په اتباع کی دبزرګانو په مزار باندی قبی جوړی کړی نوجائز به وی اوکه ناجائز؟ اومړی یایو بزرګ په مسقف کور کی دننه دفن کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: قبه جوړول یاپه کور کی دفن کول بغیر دپیغمبرانو څخه بل هیچا لره جائزنه دی شامی اول جلد ص ٢٢٠، ولا ینبغی ان یدفن المیت فی الدار ولوکان صغیرا لاختصاص هذه السنة

([1]). اختلط موتانا بکفار ولا علامة اعتبر الاکثر فان استووا غسلو واختلف فی الصلاة علیهم ومحل دفنهم کدفن ذمیة حبلی من مسلم قالوا والاحوط دفنها علی حدة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٠٥ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠١). ظفیر

([2]). والافضل الدفن فی المقبرة التی فیها قبور الصالحین (عالمگیری مصری ج١ ص ١٥٢، فصل فی الدفن ، ط. م. ج٢ ص ١٢٢). ظفیر

([3]). والولد یتبع خیر الابوین دینا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج٢ ص ۵۴١ ، ط. س. ج٣ ص ١٩٩). ظفیر

بالانبيآء الخ ويهال التراب عليه وتكره الزيادة عليه من التراب لانه بمنزلة البناء (١)، لما فى صحيح مسلم عن جابر . قال نهى رسول الله ﷺ ان يجصص القبر وان يبنى عليه (٢).

دقبر دحفاظت په غرض باندې دڅهار ديوارې جوړول څنګه دي؟ سوال: (۳۰۴۵) كه چيرې ديو بزرګ مزار مبارك په داسې ځاى كې وى، چې هلته دعوام الناس او دحيواناتو وغيره ؤ لاره وى په داسې صورة كې كه چيرې دقبر دحفاظت دپاره څلورو طرفونو ته پوخ ديوال جوړسي ياجنګله جوړه سى، په دى طريقى سره چې دهغه څلورو واړو ګنجيانوته پخې ستنې جوړې سى، اوپه منيځ كې لرګى ولګيږى نودادواړه صورتونه جائزدى اوكه نه؟ كه چيرې جائزوى نوكم يوصورة اولى دى اودنورو ضرورياتو په وجهى سره دهغه څلورو طرفونو ته پوخ فرش جوړول هم جائزدى اوكه نه؟

جواب: په شامى كې دى، وعن ابى حنيفة ﷺ يكره ان يبنى عليه بناء من بيت اوقبة او نحو ذالك لما روى جابر ؓ نهى رسول الله ﷺ عن تجصيص القبور وان يكتب عليها وان يبنى عليها، رواه مسلم وغيره، انتهٰى (٣)، نو دقبر څخه چاپيره پخه څهار ديوارى ياپوخ صحن ياستنې جوړول مكروه دى.

په قبركې نس جوړول اوبيا پكښې مړى پټول غلط دي: سوال: (۳۰۴۶) ديوه مسلمان مړى په قبركې دننه يعنى په لحد كې اوبه واچول سوى اوبيايې پكښې خاورى واچولې اولت پت يې كې، بيايې پكښې چټائى واچوله اومړى يې باندې كښې ښووى قاضى صاحب وايي چې په داشان دمړى پټولو سره دقبر حساب كتاب نه وى ددغه قاضى دپاره څه حكم دى؟

جواب: دقاضى صاحب خيال غلط دى، ددى هيڅ ضرورت نسته چې په لحد كې دي خټه جوړه سى اوپرهغه باندې چټائى وغوړول سى، اومړىورباندې كښې ښوول سى اوداسې ګڼل چې په دى طريقى دفن كولو سره حساب كتاب دمړى سره نه كيږى بالكل بې بنياده خبره ده اودجهالت خيال دى اوددى څه ثبوت نسته، اوپه دى عقيدى په ذكر سوى طريقى سره دمړى پټه ول درست نه دى. فقط

درضامندۍ څخه بغير دبل چاپه ملكيت كې دمړي پټول نه دي پكار: سوال: (۳۰۴۷) يوكلى دزميندار ملكيت دى په هغه كې دمړى پټول بغير دقيمت څخه جائزدى اوكه نه؟ اوحاكم حكم كوى چې مړى پكښې بغير دقيمت څخه پټوى كه زميندار رضامند نه وى نوبياهم

(١). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ۸۳۲ ، ط. س. ج٢ ص ۲۳۵. ظفير
(٢). مشكوٰة باب دفن الميت ص ۱۴۸. ظفير
(٣). ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فى دفن الميت ج١ ص ۸۳۹ ، ط. س. ج٢ ص ۲۳۷. ظفير

بغير دقيمت څخه ددفن كولو حكم جائزدى اوكه نه؟ اوكه چيرى څه زميندارانِ رضامند وى اوڅه رضامند نه وى نوبيا هم بغير دقيمته مړى ښخول جائزدى اوكه نه؟

جواب: چى دچا ملكيت دى دهغوى په اجازه او درضامندى سره مړى پټولى سى، كم خلګ چى رضامند دى هغوى دي پخپله حصه كى دغه مځكه ولګوى اوددى كار دپاره دي وركړى دپاره ددى چى بيا چاته دانكار ګنجائش پاته نه سى. حاكمان داكار كولى سى چى دهغه زميندارو حصه دي بيله كړى څوك چى رضامند دى اوپه هغه كى دى مړى دفن سى. فقط

دوران سوى قبرتازه كول څنګه دى؟ **سوال**: (۳۰۴۸) مولانا عبدالرحمٰن صاحب دطاعون په ناجوړى كى رحلت وكى په ۲۲\ صفر سنه ۱۳۳۲هـ كى اوس دمولوى صاحب پلار قبر وكيندى، اووينى چى نه كفن سته اونه هډوكى، نودنوى سره يى خالى قبر تياركى نوايا په خالى قبر باندى فاتحه ويل درست دى اوكه نه؟ په يو نيم كال كى دمړى څه حالت كيږى، اوپه داسى كولو كى څه ګناه خو نسته؟

جواب: داښكاره خبره ده چى ددومره مودى پورى دمړى هډوكى اوبدن اوكفن چيرى پاته كيدى سى تول خاورى سى، چونكى دمولوى صاحب قبر هم هغه وو، په كم كى چى هغه پټ سوى وو، كه څه هم هغه خاورى سو نو دهغه دنخښى تجديد دعلامى اوسلام او فاتحه خوانى په غرض درست دى ([1])، فقط

په حيات النبى ﷺ اوتجهيز اوتكفين كى تطبيق: **سوال**: (۳۰۴۹) دحضور ﷺ حيات داهل سنت والجماعت دمسلماتو څخه دى، بيا قبض دروح اوتجهيز ،تكفين اوتدفين وغيره امور منافى دحيات معلوميږى، كه چيرى دانبياء كرامو عليهم السلام حيات ته په شان دحيات دشهداء وو عندالله كيدل وويل سى نوپه مينځ كى به څه فرق وى؟

جواب: دانبياء كرامو عليهم السلام حيات دشهيدانو دحيات څخه هم اقوى اواتم دى اومراد ددغه حيات څخه دنيوى ظاهرى نه دى، لكه څنګه چى دبارى تعالى ارشاد مبارك دى، انك ميت وانهم ميتون، لهذا احكام داموات ظاهريو پر تولو باندى جارى كيږى ددى مسئلى پوره تحقيق دحضرت مولانا محمد قاسم صاحب قدس سرہ په تصنيف، آبِ حيات، كى ذكرسوى دى، هغه وګورى.

دمرګ دوخت اعتبار: **سوال**: (۳۰۵۰) يوسړى دمازيګر په وخت كى وفات سو، اودشپى يوولس بجى يى دفن كړى، نودى به په كمه ورځ كى شمارل كيږى ؟

([1]). قوله وبزيارة القبور اى لاباس بها بل يندب (ردالمحتار ج۱ ص ۸۴۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۲). ظفير

جواب: دسوال منشأ معلومه نه سوه که چیری مثلا داقسم جگړه ده چی دجُمعې ثواب ورکول کیږی اوکه نه؟ نوپر مرگ باندی ده یعنی دمرگ دوخت اعتباردی (۱)، اودمړی ورځی اوشپی دعدی وغیره دپاره شمارل جائز دی چی کم وخت یی انتقال سوی وی هم هغه وخت به شمارل کیږی اوددریمی، څلورمی، لسمی دپاره یی شمار کول گناه ده. فقط

دمسلمان بنگی په جومات کی حاضریدل اودهغوی جنازه اوپه قبرستان دهغوی کفن اودفن:

سوال: (۳۰۵۱) کلمه ویونکی بنگی په جومات کی دلمانځه دپاره پریښوول په کاردی اوکه نه؟ اودهغوی دجنازی لمونځ کول اوپه جنازه کی یی شریکیدل اوپه خپل قبرستان کی دفن کول یی په کاردی اوکه نه؟ اوهغوی لره دعوت ورکول اودهغوی دعوت خوړل، اوکه هغوی صفا سوتره وی نوهغوی دخپل ځان سره ډوډی ته کښېنولی سو اوکه نه؟

جواب: هغه دجومات څخه بندول نه دی په کار، اودهغه دجنازی لمونځ کول په کاردی، اوپه جنازه کی یی شرکت اوشاملیدل پکاردی (۲) اودمسلمانانو په قبرستان کی یی دفن کول پکاردی، اودهغوی دعوت قبلول اوخوړل درست دی اوپه هغوی باندی په خپل کور کی خوړل اودهغوی دعوت کول جائزدی. اوکله چی دهغوی لاسونه پاك اوصاف وی نو دخپل ځان سره پردسترخوان باندی په هغوی باندی ډوډی خوړل جائز دی (۳)، اوداټولی خبری دفقهی شریفی او داحادیثو مبارکو څخه ثابتی دی. فقط

چی دکم هلک پلار مسلمان اومور یی غیرمسلمه وی چی مړسی نوڅه حکم یی دی؟ سوال: (۳۰۵۲) یوهلك یوکلن دی چی پلار یی مسلمان دی اومور یی غیرمسلمه ده، هغه مړسو نودمسلمانانو په قبرستان کی یی دفن کولی سو اوکه نه؟

جواب: دغه هلك به مسلمان گڼل کیږی، لان الولد یتبع خیر الابوین (۴) لهذا هغه دمسلمانانو په مقبره کی دفن کول په کاردی، فقط

قبرته دکښته کولو څخه وروسته ښوول ثابت نه دی: **سوال**: (۳۰۵۳) که دقبر په غاړه یاقبر ته دکښته کولو څخه وروسته دمړی کفن خلاص کړی، او وارثان وغیره دهغه مخ گوری نوداثابت دی اوکه نه؟

---

(۱). په ذکرسوی سوال کی به دمازیگر دوخت اعتبار وی، ابتداء العدة فی الطلاق عقیب الطلاق وفی الوفات عقیب الوفات (عالمگیری مصری، باب العدة ج۱ ص ۴۷۵ ، ط. م. ج۱ ص ۵۳۱). ظفیر

(۲). ارشاد ربانی دی انما المؤمنون اخوة، او: ان اکرمکم عندالله اتقاکم (الحجرات : رکوع ۲). ظفیر

(۳). ردالمحتار باب صلاة الجنائز تحت قوله کصبی سبی مع احد ابویه ج۱ ص۸۳۱ ، ط.س. ج۲ ص ۲۲۹. ظفیر

(۴). قال الله تعالی: ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان یذکر فیها اسمه الخ (بقره) وقال رسول الله ﷺ صلوا علی کل بر وفاجر (شرح فقه اکبر) وفی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار وهی فرض علی کل مسلم خلا اربعة وقطاع طریق الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۰). ظفیر

جواب: داثابت نه دی (۱). فقط

په قبر کی دبیری نهال اچول: **سوال**: (۳۰۵۴\۱) دمړی ددفن کولو څخه وروسته دمړی دسینی په برابر پرقبر لوړ دبیر دلبنتی دفن کول درست دی اوکه نه؟

دقبر په دیوال باندی کلمهٔ شهادت: **سوال**: (۳۰۵۵\۲) په قبر کی دمړی داینبولو څخه مخکی دقبر پردیوالونو باندی کلمه شهادت په ګوتی سره لیکل درست دی اوکه نه؟

جواب: ۱\: درست دی (۲). فقط

۲\: که چیری دسیاهی وغیره څخه بغیر صرف په ګوتی سره اشاره وکړی په داشان چی په دیوالونو باندی دحروفو نخښنه نه وی نوڅه حرج پکښی نسته اوپه شامی کی دی، نقلا عن فوائد السروجی ان مما یکتب علی جبهة المیت بغیر مداد بالمسبحة بسم الله الرحمٰن الرحیم وعلی الصدر لااله الا الله محمد رسول الله الخ (۳)، یعنی دمړی په تندی باندی په مسواکی ګوتی سره دسیاهی څخه بغیر بسم الله الرحمٰن الرحیم اوپه سینه باندی لااله الا الله محمد رسول الله په لیکلو کی څه حرج نسته، نوداپه نسبت سره پر دیوالونو باندی دلیکلو څخه اولٰی دی، فقط

چیری چی سیکان، عیسایان دفن کیږی هلته دمسلمان دفن کول څنګه دی؟ **سوال**: (۳۰۵۶) په کم قبرستان کی چی هندوان، مسلمانان، سیکان، عیسایان دفن کیږی، هلته دمسلمان دفن کول جائزدی اوکه نه؟ اوپه صورة دعدم جواز کی مکروه دی اوکه حرام؟

جواب: مسلمان مړی په داسی قبرستان کی دفن کول چیری چی هندوان سِکان، عیسایان هم پټ وی ښه نه دی یعنی مکروه دی کله چی بل ځای جلا ددفن کولو دپاره پیدا کیږی اوکه چیری مجبوری وی چی ماسوا دذکرسوی قبرستان څخه کم چی مخلوط دی بل ځای ددفن کولو دپاره نه وی اوخالص دمسلمانانو قبرستان هلته نسته، نودمجبوری په وجه دي په همدغه ذکرسوی قبرستان کی دفن سی، اودجنازی لمونځ کول هم هلته مکروه دی، لیکن که چیری هلته یوصفا ځای وی چی دقبرونو نخښی پکښی نه وی، اومخ ته دقبلی طرف قبرنه وی نودجنازی لمونځ وغیره هلته درست دی په شامی کی دی: ولاباس بالصلوٰة فیها اذاکان فیها موضع اعد لصلٰوة ولیس فیه قبر ولانجاسة کمافی الخانیة ولاقبلة الی قبرحلیه (۴) فقط

---

(۱). البته دکفن دبندونو خلاصولو اجازه ده: وتحل العقدة لاستغناء عنها (درمختار) لانها تعقد لخوف الانتشار عند الحمل (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۲). ظفیر

(۲). که چیری ددی څخه څه فائده په نظر کی وی. ظفیر

(۳). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۷ – ۸۴۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۷. ظفیر

(۴). ردالمحتار کتاب الصلوة قبیل مطلب تکره الصلوة فی الکنسیة ج۱ ص ۳۵۳ ، ط.س. ج۲ ص ۳۸۰. ظفیر

دمړی ددفن څخه وروسته خلکو ته نصیحت درست دی اوکه نه؟ سوال: (۳۰۵۷) په فتح الباری کی دحضرت انس ﷺ روایت دی چی: عن انس ﷺ قال اتی النبی ﷺ بجنازة فلما قام یکبر سأل ﷺ هل علی صاحبکم دین قالوا نعم دیناران فعدل النبی ﷺ قال صلوا علی صاحبکم فقال علی ﷺ دینه علی رهانك کما فککت رهان اخیك انه لیس من میت یموت وعلیه دین الا وهو مرتهن بدینه ومن فك رهان میت فك الله رهانه یوم القیامة فقال بعض القوم یا رسول الله ﷺ هذا لعلی خاصة ام للمسلمین عامة، قال بل للمسلمین عامة، په دی حدیث شریف سره دلمانځه څخه وروسته او ددفن څخه مخکی په دغه ځای کی دعاء کول اووعظ نصیحت اوتعلیم اوتعلم موجوده خلگوته سنت دی اوکه نه؟

جواب: ددین دمسائلو په تعلیم کی هیڅ وخت هم څه منعوالی نه سی کیدلی، لیکن دعاء بعد صلٰوة الجنازة په هیئت موسومه ددی څخه په هیڅ شان ثابته نه ده اوایجاد اواختراع اوالتزام دما لایلزم دی، اوثابته نه ده چی رسول الله ﷺ دجنازی دلمانځه څخه وروسته دعاء کړی وی (۱)، فان صلٰوة الجنازة هو الدعاء للمیت وفیها دعاء جامع ماثور لایساویه دعاء، فقط

دمړی دپټولو څخه وروسته دعاء: **سوال:** (۳۰۵۸) دمړی ددفن کولو څخه چی فارغه سی نو عام رسم دی چی ټول حاضرین په ولاړه په لاس پورته کولو سره فاتحه وایی، دارسم مسنون اوثابت بالحدیث دی اوکه نه؟

جواب: په دی باره کی په حدیث شریف کی دومره قدر ثابت دی ،وعن عثمانؓ قال: کان النبی ﷺ اذا فرغ من دفن المیت وقف علیه وقال استغفروا لاخیکم واسئلوا الله له الثبت فانه الان یسئل، رواه ابوداود وغیره (۲).

مړی په قبر کی څه رکم پریباسی؟ سوال: (۳۰۵۹) په شامی وغیره دفقهی په کتابونو کی یی لیکلی دی چی مړی په قبر کی پرراسته اړخ دقبلی طرف ته پریباسی حالانکی دلته تعامل اوتوارث دادی چی سیده یی پری باسی اومخ ورقبلی ته کړی، نو ددوو خبرو پوښتنه کوو، اول داچی هلته تعامل څنگه دی، دوهم داچی که چیری تعامل صحیح وی نو ددی ثبوت څه دی؟

جواب: تعامل دلته هم دغسی دی چی سیده یی پریباسی اومخ دی دقبلی طرف ته کړی،

---

(۱). ویدعو بعد الثالثة الخ ویسلم بلا دعاء بعد الرابعة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجنائز ج۱ ص ۸۱۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۲ – ۲۱۳). ظفیر

(۲). مشکوة باب اثبات عذاب القبر فصل ثانی ص ۲۲. ظفیر غفر له الله ذنوبه الخفی والجلیّ

په هدايه كى دى، ويوجه القبلة بذلك امر رسول الله ﷺ (١)، ددرمختار متن په تنوير الابصاركى دى: وينبغى كونه على شقه الايمن (٢)، دلفظ يوجه اليها څخه صرف همدا ثابتيږى چى مخ دي دقبلى طرف ته واړول سى برابره خبره ده كه په اړخ كولو سره وى او كه بغير داړخ كولو څخه، اودكم حديث څخه چى په دى باره كى استدلال سوى دى، دهغه الفاظ هم پردى باندى دلالت كوى چى مخ يى دقبلى طرف ته كيدل په كاردى ځكه چى په هغه كى دالفظ، قبلتكم احياءً (٣) اوامواتا، يعنى خانه كعبى يى دژوندو اودمړو قبله وفرمايله، نوپه دغه وجه دمړى مخ كول دقبلى طرف په كاردى، باقى ټول مړى په اړخ باندى كول په دى كى شك نسته چى دابنه طريقه ده. كما صرح به الفقهاء، ليكن كه چيرى مخ يى دقبلى طرف ته سى اوپه راسته اړخ باندى پرى باسل يى مشكل وى نودا توجه الى القبلة يعنى مخ يى دقبلى طرف ته كول كافى معلوميږى. فقط

(په عالمگيرى كى هم په راسته اړخ باندى دپرى باسلو صراحت موجود دى، ويوضع فى القبر على جنبه الايمن مستقبل القبلة. عالمگيرى مصرى الباب الحادى والعشرون ج١ ص ١٥٥، ظفير)

شيعه ګان ممبران (غړى) جوړول اوپه قبرستان كى يى ښخول څنګه دى؟ سوال: (٣٠٢٠)

دبرما ملك په متيله مقام كى دمسلم كميټى انجمن قائم دى چى دهغه په اغراضو او مقاصدو كى فى الحال صرف دمسافرو اوبى وسو مسلمانانو مړو دتجهيز اودتكفين انتظام دى، په كم كى چى پنځه ممبران اثنا عشرى دى نوايا داسى سړى دممبر جوړول، او دمسلمانانو په قبرستان كى ښخول جائزدى اوكه نه؟ مولانانا عبدالحى صاحب او د مولانا عبد الشكور صاحب په فتواوو كى يى ليكلى دى چى شيخينو ته په ښكنځلو كولو سره كفر نه لازميږى ايا داخبره صحيح ده؟

جواب: شيخينو ته ښكنځل كوونكى اوبدرد ويونكى روافض ډيرو فقهاء كرامو رحمهم الله كافر ليكلى دى (٤)، اوكم روافض چى دحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دافك قائل دى اويا دحضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه دصحابت څخه منكردى اويادحضرت على كرم الله وجهه دالوهيت قائل دى نوهغوى بالاتفاق كافران دى. درمختار شامى (٥). نوداسى روافض دمسلمانانو په قبرستان كى دفن كول جائزنه دى اوهغوى ممبرجوړول درست نه دى. فقط

---

(١). هدايه باب الجنائز ج١ ص ١٢٢. ظفير

(٢). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجنائز مطلب فى دفن الميت. ط. س. ج٢ ص ٢٣٢. ظفير

(٣). ردالمحتار باب الجنائز مطلب فى دفن الميت تحت قوله ويوجه اليها وجوبا ، ط. س. ج٢ ص٢٣٢. ظفير

(٤). وقدذكرفى كتب الفتاوىٰ ان سب الشيخين كفر، وكذا انكار امامتهما كفر (شرح فقه اكبر) ج١ ص ١٨٨. ظ

شیعه ګان دمسلمانانو په قبرستان کی دفن کول اودهغوی جنازه کول څنګه دی؟ سوال: (۳۰۶۱) که چیری داثناعشری فرقی شیعه مړی لاوارثه وی نوموړ دانجمن په روپو سره کم چی دهم دی کار دپاره دی، ددغه مړی تجهیز اوتکفین کولی سو؟ اوپه خپل قبرستان کی یی پټولی سی؟ اودشیعه اثناعشری څخه دانجمن دپاره چنده اخیستی سو؟ اوهغه ممبر جوړولی سو اوکه نه؟

جواب: دروافضو کمه فرقه چی شیخینو ته دښکنځلو کولو اوصحابه وو ته دکافر ویلو په وجه کافره ده دهغوی په تجهیز اوتکفین کی امداد کول اودهغوی دجنازی لمونځ کول اوهغوی دمسلمانانو په قبرستان کی پټول درست نه دی، او دهغوی سره دي بالکل متارکت اومقاطعت وسی ددی دپاره چی هغوی ته تنبیه وسی اوهغوی سنیان سی (١). فقط

په قبرکی دکوچنیو کاڼو ایښولو رواج غلط دی: سوال: (۳۰۶۲) دلته عام دستور دی چی په قبرکی دمړی سره کوچنی کاڼی کښېږدی په دی غرض چی مړی نکیر اومنکر لره داجواب ورکړی چی وګوری زما وارثانو زما دپاره دومره قرآن شریفونه ویلی دی اوماته یی بخښلی دی، تاسی ولاړسی! ددی څه اصل سته اوکه نه؟

جواب: دکوچنیو کاڼو ایښوولو څه ثبوت نسته اودا بدعت دی (٢) اوکم خیالات چی یی دکوچنیو کاڼو په ایښوولو کی جوړکړی دی، دا دجهالت خبری دی ددی څه فائده نسته. فقط

مړی ددفن کولو څخه وروسته بیا ایستل یی درست نه دی: سوال: (۳۰۶۳) یومړی یی په یوځای کی دامانت په طور ښخ کی، یوڅو ورځی وروسته یی هغه بیا را وکاږی، بل ځای ته یی یووړی اوپټ یی کی، داصورة دبنده دنظر څخه تیر سوی نه دی، مهربانی وکی تحریر وفرمایاست چی داصورة په کم کتاب کی دی، اودا صورة درست دی اوکه نه؟

جواب: ددفن کولو څخه وروسته مړی دقبر څخه ایستل اوپه بل ځای کی پټول یی شرعًا درست نه دی څنګه چی په درمختارکی دی: ولایخرج منه بعد اهالة التراب الخ (٣) ددی حاصل

---

(٥). وبهذا ظهر ان الرافضي ان كان ممن يعتقد الالوهية في علي ﷺ وان جبريل غلط في الوحي اوكان ينكر صحبة الصديق ﷺ ويقذف السيدة الصديقة ﷺ فهو كافر لمخالفة القواطع المعلومة من الدين بالضرورة (رد المحتار كتاب النكاح فصل في المحرمات ج٢ ص ٣٩٨ ، ط. س. ج٣ ص ٤٦). ظفير

(١). وبهذا ظهر ان الرافضي ان كان ممن يعتقد الالوهية في علي ﷺ وان جبريل غلط في الوحي اوكان ينكر صحبة الصديق ﷺ ويقذف السيدة الصديقة ﷺ فهو كافر لمخالفة القواطع المعلومة من الدين بالضرورة (رد المحتار كتاب النكاح فصل في المحرمات ج٢ ص ٣٩٨ ، ط. س. ج٣ ص ٤٦). ظفير

(٢). من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد، متفق عليه (مشكوٰة باب الاعتصام ص ٢٧). ظفير

دادی چی ددفن کولو ځخه وروسته دمړی ایستل درست نه دی اوداحکم عام دی ددی ځخه چی امانتاً پټ سی اوکه نه، اوامانتاً پټول دشریعت ځخه ثابت نه دی.

دجومات ځخه دباندی دقبلی طرف ته قبرستان جوړول درست دی اوکه نه؟ **سوال:** (٣٠٢٤) دجومات ځخه دباندی دقبلی طرف ته لس یادولس گزه لیری قبر جوړول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دجومات دبهرنی دیوال ځخه دباندی کمه مځکه چی دجومات ځخه او دجومات داوقافو ځخه خارجه ده په هغه کی قبر جوړول ممنوع اومکروه نه دی.

په بانس باندی بوریا اچول اوخاوره باندی اچول درست دی: **سوال:** (٣٠٢٥) دمړی په قبر کی دایښوولو ځخه وروسته چی پرهغه باندی بوریا واچوی اوخاوره باندی واچوی نودا جائزدی اوکه نه؟ اوپه هدایه کی دی، ولاباس بالقصب وفی الجامع الصغیر ویستحب اللبن والقصب لانه ﷺ جعل علی قبره طن، د: طن، دلفظ معنٰی څه ده؟

جواب: ددفن کولو دغه طریقه صحیح ده اود: طن معنٰی ده خرقة من القصب، قاموس، قال فی الدرالمختار ویسوی اللبن علیه والقصب لا الاجر الخ (درمختار) ونصواعلی استحباب القصب فیها کاللبن. شامی جنائز. ([1]) فقط

دجذامی مړی په کم ځای کی پټ سی؟ **سوال:** (٣٠٢٦\١) دجذامی لاش دمسلمانانو په قبرستان کی پټ سی اوکه نه جلا؟

دجذامی دلاش سوزل جائز نه دی: **سوال:** (٣٠٢٧\٢) اودمالگی په اچولو سره یی سوزل په کاردی اوکه نه ؟

جواب: \١: دمسلمانانو په قبرستان کی یی دفن کول په کاردی ([2]).

٢\ : شرعًا داحکم نسته بلکی دنورو مسلمانانو دمړو په شان دی هغه هم پټ سی ([3]).

پرقبر باندی دکور شکل جوړول درست نه دی: **سوال:** (٣٠٢٨) دیو قبر سایوان په هوا سره والوتی کم چی دذکر سوی قبر دحفاظت دپاره وو، ددی دپاره چی دواوری اودباران ځخه محفوظ سی، اوس دوباره دغه سایوان پردغه قبر باندی اچول جائزدی اوکه نه؟ اویا دغه

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٢. ظفیر

([3]). وگوره: ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٢. ظفیر

([2]). ځکه چی دی هم مسلمان دی، بیا سوچ کول په کاردی چی آیا هلته به هم په مړوکی دجذام مرض متعدی جوړ اوخپور سی؟ همدغه رکم دسوزلو خبره دمشرکانه رسم تاثردی دمسلمان دپاره دفن کول دی. والله تعالی اعلم، ظ

([3]). وعن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله ﷺ قال کسر عظم المیت کسره حیا، رواه مالك وابوداود وابن ماجه (مشکوٰة باب الدفن ص ١۴٩) قال الطیبی اشارة الی انه لایهان المیت کما لایهان فی حیاته الخ وقداخرج ابن ابی شیبه عن ابن مسعودؓ اذی المؤمن فی موته کاذاه فی حیاته ذکره فی المرقات (حاشیه مشکوٰة ص ١۴٩) ددی ځخه معلومه سوه چی دهیڅ یوه مسلمان مړی سوزل جائزنه دی. ظفیر

سايوان په يو جومات وغيره كى لگول جائزدى اوكه نه؟

جواب: پرقبر وغيره باندى دبناء چونكى ممانعت دى، ددى وجه څخه دي بيادغه سايوان پرقبر باندى نه قائموى، بلكه چى چادا اچولى وو دا دهغه ملكيت دى هغه يى چى چيرى غواړى لگولى يى سى اوپه كاريى راوستلى سى (١). فقط

په درياب كى لاهو سوى مړى را ايستل اوپه بل ځاى كى دفن كول: **سوال**: (٣٠٦٩) كه چيرى قبر په درياب كى لاهو سى نومړى دهغه څخه را ايستل اوپه بل ځاى كى دفن كول جائزدى اوكه نه؟

جواب: په درمختار كى دى، ولايخرج منه بعد اهالة التراب الا لحق ادمى كان تكون الارض مغصوبة اواخذت بشفعة الخ (٢)، نو معلومه سوه چى په سوال كى په ذكرسوى صورة كى دمړى را ايستل درست نه دى. فقط

ددفن كولو څخه وروسته دسورة بقرى اول او اخر څه ركم وويل سى؟ **سوال**: (٣٠٧٠) ددفن كولو څخه وروسته دسورة بقرى اول او اخر ويل چى كم مسنون دى په جهر سره وويل سى اوكه نه بى غير دجهر څخه؟

جواب: بغير دجهره دي وويل سى. فقط

ديو بزرگ په قبر باندى پخه چهار ديوارى جوړول درست نه دى: **سوال**: (٣٠٧١) يوبزرگ وفات سو، دهغه پرقبر باندى پخه چهار ديوارى اويو كوچنى پوخ كور جوړكړى اوكه نه؟ بعض خلگ اعتراض كوى چى جوړول يى نه دى په كار، ځكه چى په دغه ركم به شايد بدعت شروع سى.

جواب: پرقبر باندى پخه چار ديوارى جوړول جائز نه دى (٣)، اودا خيال صحيح دى چى كرار كرار به هلته بدعات شروع سى اوبانى ته به دگناه حصه وركول كيږى. فقط

دمرگ څخه مخكى په قبر تيارولو كى بديت نسته: **سوال**: (٣٠٧٢) كه چيرى دمريض كيدلو

---

(١). ولا يجصص للنهى ولايطين ولا يرفع عليه بناء وقيل لاباس به وهوالمختار (درمختار) قوله لايرفع عليه بناء: أي يحرم لو للزينة، ويكره لو للاحكام بعد الدفن، وأما قبله فليس بقبر ؒ وعن أبي حنيفة يكره أن يبنى عليه بناء من بيت أو قبة أو نحو ذلك، لما روى جابر: نهى رسول الله ﷺ عن تجصيص القبور، وأن يكتب عليها، وأن يبنى عليها رواه مسلم وغيره (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٧). ظفير

(٢). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص٨٣٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٧ و٢٣٨. ظفير

(٣). ولا يجصص للنهى عنه ولايطين ولا يرفع عليه بناء وقيل لا باس به وهوالمختار (درمختار) قوله لايرفع عليه بناء: أي يحرم لو للزينة، ويكره لو للاحكام بعد الدفن، وأما قبله فليس بقبر ؒ وعن أبي حنيفة يكره أن يبنى عليه بناء من بيت أو قبة أو نحو ذلك، لما روى جابر: نهى رسول الله ﷺ عن تجصيص القبور، وأن يكتب عليها، وأن يبنى عليها رواه مسلم وغيره (ردالمحتار باب صلوة الجنائز ج١ ص ٨٣٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٧). ظفير

په حالت کی دسهولت په غرض دقبر اودکفن وغیره تیاری په دی رکم سره وسی چی مریض ته څه درك ونه لګیږی نوپه دی کی څه ګناه سته اوکه نه؟

جواب: دمخکی څخه په قبر اوکفن تیارولو کی څه حرج اوګناه نسته ([1]).

قبرته دکښته کولو څخه وروسته مخ کتل څنګه دی؟ **سوال**: (۳۰۷۳) قبر دکښته کولو څخه وروسته دمړی مخ کتل جائز دی اوکه نه؟

جواب: قبرته دکښته کولو څخه وروسته بیا مخ کتل نه دی په کار. فقط

دجُمعې په شپه یاسهار چی څوک مړ سی نو هغه دجُمعې دجماعت په انتظار کی ځنډول مکروه دی: **سوال**: (۳۰۷۴) که چیری یو مسلمان دجُمعې په ورځ وفات سی نوهغه دجُمعې دلمانځه څخه مخکی دفن کول ښه دی اوکه نه دډیر ثواب په خیال سره دجُمعې دلمانځه سره دهغه لمونځ وسی؟

جواب: په درمختار کی دی چی که چیری دجُمعې په شپه یاسهار څوك مړسی نودهغه په تجهیز اوتکفین کی دي تلوار وسی اوتاخیر دي نه کوی چی دجُمعې دلمانځه څخه وروسته په لویی جُمعې سره دجنازی لمونځ وسی دامکروه دی بلکی پکاردی چی حتیٰ الوسع دجُمعې دلمانځه څخه مخکی دفن سی، البته که چیری دجُمعې وخت رانژدی سوی وی اوپه مخکی دفن کولو کی دجُمعې دلمانځه دفوت کیدلو بیره وی، نوبیا دي دجُمعې دلمانځه څخه وروسته دجنازی لمونځ وکی اودفن دي سی ددرمختار عبارت دادی، وکره تاخیر صلٰوته ودفنه لیصلی علیه جمع عظیم بعد صلٰوة الجمعة الا اذا خیف فوتها بسبب دفن الخ ([2]). فقط

مړی په کورکی دفن کول درست دی خوښه نه دی: **سوال**: (۳۰۷۵) مړی داستوګنی په کور کی دفن کول درست دی اوکه نه؟

جواب: په کورکی دفن کول هم جائزدی لیکن ښه دادی چی په وقف سوی قبرستان کی دفن سی ([3]). فقط

په صندوق کی په اچولو سره دفن کول څنګه دی؟ **سوال**: (۳۰۷۶) بعضی خلګ مړی ته کفن

([1]). یحفر قبر النفسه وقیل یکره والذی ینبغی ان لایکره، ینبغی ان لایکره تهیئة نحو الکفن بخلاف القبر (در مختار) قوله یحفر الخ وفی التتارخانیة لاباس به ویوجر علیه هکذا عمل عمر بن عبدالعزیز والربیع بن خیثم وغیرهما (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص۸۴۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۴). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۲. ظفیر

([3]). ولاینبغی ان یدفن المیت فی الدار ولوکان صغیرا لاختصاص هذه السنة بالانبیاء (درمختار) قوله فی الدار: كذا في الحلية عن منية المفتي وغيرها، وهو أعم من قول الفتح، ولا يدفن صغير ولا كبير في البيت الذي مات فيه فإن ذلك خاص بالانبياء، بل ينقل إلى مقابر المسلمين اهـ. ومقتضاه أنه لا يدفن في مدفن خاص كما يفعله =

واچوی اودلرگی په یوه صندوق کی یی کښیږدی اودفن یی کړی اومځکی ته یی حواله کړی اودا خیال کوی چی ترکمی مودی پوری یی حواله کوی ترهغه وخت پوری دمړی جوسه نه خرابیږی په شریعت کی ددی خبری څه اصل سته اوکه نه؟ اوپه صندوق کی دابښوولو سره دفن کول یی جائزدی اوکه نه؟

جواب: په شریعت کی ددی څه اصل نسته، اوداسی کول جائزنه دی کم خلګ چی په ذکر سوی اعتقاد سره داسی کوی هغوی ګنهګاردی البته کمی مځکی چی نرمی اوکمزوری وی نوپه هغه کی دتابوت ایښوول جائزدی غرض داچی ددی اجازه هم دضرورت په وجه ده، کنې داهم بی ضرورته مکروه دی، کما فی الخانیة وحکی عن الشیخ الامام ابی بکر محمد بن فضل انه یجوز اتخاذ التابوت فی بلادنا لرخاوة الارض الخ (۱)، وهکذا فی الدر المختار، فقط

<u>دسړو اودښځو دپاره یوقبرستان درست دی</u>: **سوال**: (۳۰۷۲) په بعضو ځایونو کی دښځو قبرستان دسړیو څخه په جلا احاطه کی جوړوی ددی څه حکم دی؟

جواب: ددی څه ضرورت نسته، دمسلمانانو دسړیو او دښځو قبرونه په یوقبرستان کی کیدی سی. فقط

<u>دجومات په مځکه کی دمړی دفن کول درست نه دی لیکن که دفن سو نوهغه دی نه راکاږی</u>:

سوال: (۳۰۷۸) په ښار کی یوجامع جومات دی اوڅه مځکه جومات ته نژدی دجومات ملکیت ده ددغه جومات مشر منشی عبدالله نومیدی، اوس هغه وفات سو، اوهغه ښه په ښکاره سود خورسړی وو، نوبعضوخلګو والی صاحب بهادر وغولوی چی عام مسلمانان راضی دی اودغه فاسق سړی اوفاجر یی دجومات په دغه مملوکه مځکه کی دفن کی، او دنصارٰی وو په طرز یعنی دلرگی په بکس کی یی بندکی، اودفن یی کی، نودجومات په مځکه کی دمړی دفن کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دجومات په مځکه کی دهغه دفن کول جائزنه وو، لیکن ددفن کولو څخه وروسته دي دهغه ځای څخه نه وکاږی، البته دجومات دضرورت دپاره دغه قبر هوارول جائزدی او یوه زمانه وروسته چی کله مړی خاوری سی نوپه دغه ځای کی دجومات کور وغیره جوړول هم درست دی. درمختار وشامی (۲). فقط

= من يبني مدرسة ونحوها، ويبني له بقربها مدفنا، تأمل (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۲ – ۸۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۵). ظفير

(۱). ولاباس باتخاذ تابوت ولوحجر اوحديدله عند الحاجة كرخاوة الارض (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۴). ظفير [باقی]

جومات ته مخامخ دمړی دفن کول څنګه دي؟ سوال: (۳۰۷۹) جومات ته مخامخ دمړی دفن کول اوقبرونه جوړول جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیری دجومات سره نژدی یوخاص ځای دمړو ددفن کولو دپاره جوړسوی وی نوهلته په دفن کولو کی هیڅ بدیت نسته، دفن په همداسی ځای کی کول په کاردی کم ځای چی خاص دهمدی دپاره وی (۱). فقط

که دکور په بنیادکی مړی را ووزی نوځه کول پکار دي؟ سوال: (۳۰۸۰) دیوه کور دبنیاد کنبلو په وخت دیوه مسلمان سړی مړی سلامت رابرسیره سویدی، نوآیا دغه مړی دي په همدغه ځای کی پټ کی اوکه نه ددغه ځای ایستل کیږی اوپه قبرستان کی دفن سی؟

جواب: ذکرسوی مړی پر همدغه ځای لرل په کاردی، ځکه چی بغیر دسخت ضرورت څخه مړی دځپل دفن ځای څخه منتقل کول جائزنه دی، لکه څنګه چی په شامی کی دی، واما نقله بعد دفنه فلامطلقا (۲). البته که چیری هلته ددغه مړی ساتل ګران وی اودبی حرمتی بیره یی وی، مثلاً داچی عین په بنیاد کی دغه مړی دی، یابله څه داسی مجبوری ده، نو بیا داهم جائزدی چی په بل ځای قبرستان کی هغه دفن سی، ددی دپاره چی دمړی احترام باقی پاته سی. فقط

په جنازه باندی شال اچول اووباندی دسایی دپاره چتری لګول څنګه دي؟ سوال: (۱۳۰۸۱\۱) دسړی پرجنازه باندی شال وغیره اچول اودلمر په وجه باندی دچتری په لګولو سره قبرستان ته وړل یی درست دی اوکه نه؟

په داسی حالت کی دجنازی لمونځ وسی اوکه نه؟ سوال: (۳۰۸۲\۲) په دغه حالت کی دجنازی لمونځ کول درست دی اوکه نه؟ اودی کارته بدعت ویل څنګه دی؟ اوددی فعل په وجه دلمونځ ګذارو وغیره وو تکفیر کول جائزدی اوکه نه؟

دجنازی دلمانځه څخه بندول جائزنه دي: **سوال**: (۳۰۸۳\۳) یوعالم دهمدی وجه څخه، نه خویی پخپله دجنازی لمونځ وکی اونور خلګ یی هم دلمانځه څخه منع کړل اودلمانځه دجواز انکار یی وکی، نوپه هغه باندی شرعًا څه حکم دی؟

دمړی دلمبولو دپاره دخوراک په لوښی کی اوبه ګرمول جائز دي: **سوال**: (۳۰۸۴\۴) دمړی

---

(۲). قال الزیلعی ولوبلی المیت وصار ترابا جاز دفن غیره فی قبره وزرعه والبناء علیه اهـ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۳). ظفیر

(۱). ویستحب فی القتیل والمیت دفنه فی المکان الذی مات فیه فی مقابر اولئك القوم الخ (غنیة المستملی مسائل متفرقه ص ۵۲۳). ظفیر

(۲). ردالمحتار باب صلاة الجنائز قبیل مطلب فی الثواب علی المصیبة ج۱ ص۸۴۰، ط.س. ج۲ ص۲۴۰. ظفیر

دغسل اوبه دخوراك په لوښي كې ګرمول جائزدي اوكه نه؟

جواب: ۱\ : دغه امور بدعت اوناجائز دي تكلفات دجنازي سره جائزنه دي پرمړي باندي سايه دهغه دعملونو وي، كما ورد انما يظلله عمله، نومړي ته دچترى دسايى كولو ضرورت نسته اودا بدعت اوناجائز دي اوشال وغيره پرمړي باندي اچول دكفارو درسوم او دجاهلانو درسوم څخه دي ، وعن عليؓ قال: قال رسول الله ﷺ: لا تغالوا في الكفن فانه يسلب سلبًا سريعًا، رواه ابوداود. (۱)

۲\ : په دي حالت كي دجنازي لمونځ كول درست دي اوبدعت ويل دي فعل ته صحيح دي ليكن په دي وجهي سره تفسيق اوتكفير ديو مسلمان صحيح نه دي.

۳\ : دا دهغه څخه غلطي وسوه، دهغه دجنازي لمونځ كول جائز بلكي ضروري وو، قال ﷺ صلوا على كل بر وفاجر، الحديث (۲).

۴\ : جائز دي. فقط

<u>په قبرستان كي ددفن كولو څخه وروسته بيا ايستل جائزنه دي</u>: **سوال**: (۳۰۸۵) دزيد دمرګ دري څلور كاره وسول اوهغه په مغصوبه مځكه كي نه وو دفن سوي، بلكي په عام قبرستان كي دفن سوي وو اوس يي هغه دقبر څخه راوايستى اولاس اوهډوكو ته يي كفن وركي اوجنازه يي باندي وكړه اواوه اته ميله لري يي يووړي اودفن يي كي، نوداكار څنګه دي؟ اوددي كار دمرتكب امامت اوبيعت درست دي اوكه نه؟

جواب: فقهاء كرام په دي باره كي ليكي چي مړي ددفن كولو څخه وروسته بغير ديو څو صورتونو څخه نه ايستل كيږي، په دي باره كي ددرمختار عبارت دادي، ولايخرج بعد اهالة التراب الا لحق ادمى كان تكون الارض مغصوبة او اخذت بشفعة الخ (۳)، اوپه شامي كي دي: وكما إذا سقط في القبر متاع أو كفن بثوب مغصوب أو دفن معه مال قالوا: ولو كان المال درهما. بحر، قال الرملي: واستفيد منه جواب حادثة الفتوى: امرأة دفنت مع بنتها من المصاغ والامتعة المشتركة إرثا عنها بغيبة الزوج أنه ينبش لحق، الخ ، (۴) غرض داچي ددفن كولو څخه وروسته دمړي را ايستلو يوڅو وجهي اومصالح كيدى سي، ددي دپاره چي كم بزرګ داسي كړي دي دهغه څخه دي دمصلحت پوښتنه وسي كيدى سي چي دجواز څه وجه اوڅه مصلحت اوضرورت دي، داحاديثو مباركو په كتابونو كي مروي دي چي حضرت جابر بن عبداللهؓ

---

(۱). مشكوٰة باب غسل الميت وتكفينه ص ۱۴۴. ظفير

(۲). شرح فقه اكبر ص ۹۱. ظفير

(۳). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۸. ظفير

(۴). ردالمحتار باب الجنائز ايضا ، ج۱ ص ۸۳۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۸. ظفير

خپل پلار ځومياشتې وروسته دخپل قبر څخه راوايستى اوجلا يې دفن كې صرف په دې وجه چې هغه ديو بل مړي سره په يوقبر كې دفن سوى وو، غرض داچې داقسم واقعات دصحابه كرامو رضي الله عنهم څخه هم منقول دي، لهذا دعذر معلومولو څخه بغير په اعتراض كې تندي كول نه دي په كار، فقط

پرقبر باندې باغچه لګول اوميوه يې خوړل څنګه دي؟ **سوال:** (٣٠٨٢) په مقبرو كې چې كم قبرونه اوار سي په هغه باندې په باغچه لګولو كې څه حرج نسته، او دخوراك شيان په هغه باندې خوړل څنګه دي؟

جواب: پرزړو قبرونو باندې داسې كول درست دي اودميوې په خوراك كې په دې وجهې سره چې هغه درخته په قبر باندې ده څه حرج نسته (١) البته كه چيرې قبرستان وقف وي نودهغه دميوو په باره كې چې څه شرط اويا تعامل وي هم هغه ركم دي وكړي يعنې كه چيرې دخرڅولو شرط يې وي نوبې قيمته دي نه خوري، ياكه دفقيرانو دپاره وقف وي نوغني دي نه خوري. فقط

دښځو ددفن په وخت كې پرده: **سوال:** (٣٠٨٧) كله چې يو ښځه مړه سي نو دښځولو په وخت كې پرده كولې سي، نوآيا داحكم دټولو ښځو دپاره دى اوكه نه دپرده دارو ښځو دپاره دى؟

جواب: داحكم يعنې ددفن كولو په وخت كې دپردې حكم دټولو ښځو دپاره دى (٢). فقط

دقبر ژوروالى څومره په كاردي؟ **سوال:** (٣٠٨٨\١) دصندوقي قبر ژوروالى كم چې دانسان دنيم قامت څخه مراد دي، نودټول قبر ژور والى دى اوكه نه څنګه؟

دفرشتې په وجه سره قبر ژور كښل كيږي؟ سوال: (٣٠٨٩\٢) په قبركې چې فرشتې راځي اومړي كښينوي نوايا په دې وجه قبر ژور كښل كيږي اوكه نه څنګه؟

جواب: ١\. دفقهاؤ مراد دنيم قامت دژوروالي څخه دټول قبر ژوروالى مراد دى اودا ادنى درجه ژوروالى دى اوددې څخه زيات دپوره قامت ژوروالى دابنه دي، اوعلت ددې دادى چې بدبويي يې دباندې خپره نه سي اودحيوانانو څخه محفوظ وسي، والمقصود منه المبالغة في منع الرائحة ونبش السباع، شامي (٣).

---

(١). ولوبلى الميت وصار ترابا جاز دفن غيره في قبره وزرعه والبناء عليه كذافي التبيين (عالمگيري مصرى فصل في القبر والدفن ج١ ص ١٥٢، ط. ماجديه ج١ ص ١٦٧). ظفير

(٢). ويسجى ان يغطى قبرها ولو خنثى لاقبره (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٧٣٧، ط. س. ج٢ ص ٢٣٦). ظفير

(٣). ردالمحتار باب صلوة الجنائز ج١ ص ٨٣٥، ط. س. ج٢ ص ٢٤٤. ظفير

۲۱: دقبر دژوروالی داوجه نه ده، څنګه چې دشامی څخه منقول سو، اوپه هغه عالم کی دمړی دکښېنولو دپاره دذکر سوی ژوروالی ضرورت نسته، ځکه چی هغه عالم ددی عالم په شان نه دی. فقط

ددفن کولو څخه وروسته اذان درست نه دی: سوال: (۳۰۹۰) دمړی ددفن کولو څخه وروسته اذان کول څنګه دی؟

جواب: په ردالمحتار المعروف بالشامی اول جلد کتاب الجنائز کی دی، فی الاقتصار علی ما ذکر من الوارد اشارة الی انه لایسن الاذان عند ادخال المیت فی قبره الخ ([1])، ددی عبارت څخه واضحه سوه چی ددفن څخه وروسته اذان کول مشروع نه دی، بلکی بدعت دی. فقط

مړی لره په قبر کی خوشبویی لګول څنګه دی؟ سوال: (۳۰۹۱) مړی لره په قبرکی خوشبویی لګول څنګه دی؟

جواب: څه حرج پکښی نسته ([2]). فقط

دقبر څخه دمړی را ایستل اودوباره جنازه باندی کول ممنوع دی: سوال: (۳۰۹۲) دزید دپلار دوفات پنځلس کاله پوره سول، دهغه غسل اوتجهیز اوکفن دشرعی شریفی مطابق سوی وو، دذکر سوی مودی څخه وروسته زید دخپل پلار جوسه بی ضرورته دقبر څخه راوایستل اوپه بل ځای کی یی ددفن کولو اراده وکړله، اودوباره ییورباندی دجنازی لمونځ وکی، اودی کارته جائز وایی، اوناخبره خلګ منع کونکی ته کافر او وهابی وایی، شرعًا ددی څه حکم دی؟

جواب: بغیر دضرورت څخه مړی دقبر څخه را ایستل هم ممنوع دی ([3]). اودوباره ورباندی لمونځ کول بالکل غیرمشروع دی، هیڅکله درست نه دی ([4])، نو ددغه سړی دا کار ډیر بد دی اومنع کوونکی ته بد ویل اومشرك اوبدعتی ویل جهالت اوګمراهی ده ددی څخه توبه کاږل لازم دی، اوپه آئنده کی دي داسی حرکت ونه کړل سی. فقط

دتدفین څخه وروسته په خاورو لړلی لاسونه پریمنځل درست دی: سوال: (۳۰۹۳) چی مړی په قبرکی کښېږدی اوخاوری باندی واچوی نودهغه څخه وروسته دلاسونو پریمنځل جائز

([1]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۵. ظفیر

([2]). ویوضع الحنوط فی راسه ولحیته وسائر جسده (عالمګیری مصری ج۱ ص ۱۲۱، ط. ماجدیه ج۱ ص ۱۶۲). ظفیر

([3]). ولایخرج عنه عند اهالة التراب الا لحق آدمی کان تکون الارض مغصوبة الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۳۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۸). ظفیر

([4]). ولا یصلی علی میت الا مرة واحدة والتنفل بصلاة الجنازة غیر مشروع کذافی الایضاح (عالمګیری مصری باب صلاة الجنازة ج۱ ص ۱۵۳ ، ط. ماجدیه ج۱ ص ۱۶۴). ظفیر

دی اوکه نه؟ بکر ورته جائز اوزید ورته ناجائز وایی؟
جواب: په دی باره کی دبکر قول صحیح دی، په لاس پریمنځلو کی په دی صورة کی شرعًا څه حرج نسته اوڅه منع والی ددی نسته، ناجائز ورته ویل بی دلیله دی. فقط
مړی جنوبًا او شمالاً ولی دفن کوی؟ سوال: (٣٠٩٤) مړی جنوبا اوشمالا ولی دفن کوی؟
جواب: مړی شمالاً اوجنوباً دفن کول په دی طریقی سره چی مخ یی دقبلی طرف ته وی مسنون دی، ځکه چی په حدیث شریف کی دی چی کعبه مکرمه قبله ده په ژوند کی هم اودمرګ څخه وروسته هم، حیث ورد قبلتکم احیاءً اوامواتا ([1])، اودا تفاولاً دی، ځکه چی دمسلمان په باره کی همدا ګمان کول په کاردی چی دی پر اسلام اوپه ایمان باندی وفات سوی دی، فقط
ددفن کولو په وخت کی دری موټه خاوره اچول: **سوال**: (٣٠٩٥) دمړی ددفن کولو څخه وروسته دری موټه خاوره په قبرکی اچول ښنګه دی؟
جواب: دخاوری دری موټه په قبرکی اچول تمامو حاضرینو لره مستحب دی. کذا فی العالمګیری ([2]) وغیره. فقط
دمړی سرته دقل هوالله په ویلو سره دخاوری اچول ښنګه دی؟ سوال: (٣٠٩٦\١) دمړی سرته دقل هوالله دویلو څخه وروسته خاوره اینبوول ښنګه دی؟
په قبرکی دخُرما دلښتی اینبوول جائزدی اوکه نه؟ سوال: (٣٠٩٧\٢) دمړی په لحد کی دخُرما لښته اینبوول ښنګه دی؟
جواب: ١. درست نه دی ، اوثابت نه دی. ([3]).

([1]). ویوجه الیها وجوبا وینبغی کونه علی شقه الایمن (درمختار) بحدیث ابوداود والنسائی ارجلا قال یارسول الله ﷺ مالکبائر قال هی تشرع فذکر منه استحلال البیت الحرام قبلتکم احیاء واموانا اهـ قلت وجهه ان ظاهره التسویة بین الحیاة والموت فی وجوب استقباله (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٧٣٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٥ - ٢٣٢). ظفیر

([2]). ویستحب لمن شهد دفن المیت ان یحثو فی قبره ثلث حثیات من التراب بیدیه جمیعا ویکون من قبل رأس المیت ویقول فی الحیثیة الاولی: منها خلقناکم، وفی الثانیة: وفیها نعیدکم، وفی الثالثة: ومنها نخرجکم تارة اخری، کذافی الجوهرة النیره (عالمگیری کشوری باب صلاة الجنائز فصل سادس ج١ ص ١٢٣، ط. ماجدیه ج١ ص ١٢٢). ظفیر

([3]). مستحب طریقه داده چی دسر دطرف څخه دری لپی خاوره په دواړو لاسونو سره واچوی اودمځکنی لپی سره منها خلقنکم ددوهمی لپی سره، وفیها نعیدکم، اوددریمی سره دی، ومنها نخرجکم تارة اخرٰی ووایی، ویستحب حثیة من قبل راسه ثلاثا لما فی ابن ماجه عن أبي هریرة: أن رسول الله ﷺ صلی علی جنازة ثم أتی القبر فحثا علیه من قبل رأسه ثلاثا شرح المنیة. قال فی الجوهرة: ویقول فی الحثیة الاولی: (منها خلقناکم) وفی الثانیة: (وفیها نعیدکم) وفي الثالثة: (ومنها نخرجکم تارة أخری). (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص٨٣٨ ، =

۲۱: ددی ضرورت نسته، اومحققینو عالمانو ددی څخه منعه فرمایلی ده. فقط

دډهلي مړی په دیوبند کی ښخیدی سی؟ سوال: (۳۰۹۸) که چیری یوسړی په دهلی کی وفات سی، نوهغه مثلاً دښخولو دپاره دیوبند ته وړل جائز دی که نه؟

جواب: درست دی. [1] فقط

ددفن کولو څخه وروسته ددرختی لښته ښخول څنګه دی؟ سوال: (۳۰۹۹) دمړی ددفن کولو څخه وروسته پرقبر باندی ددرختی لښته دعذاب کمیدلو دپاره جائز ده که نه؟

دحضور ﷺ پر قبر باندی نیالګی ښخ سوی وو که نه؟ (۳۰۹۹ / ۲)

جواب: ۱. حنفی عالمانو اومحققینو داکار دحضور ﷺ سره مخصوص ګڼلی دی اوعذاب پورته کیدل یې دحضور ﷺ دبرکت په وجهی سره مخصوص کړیدی، لهذا ددې ترك کول احوط دی. [2] فقط

۲: دا ثابت نه دی. فقط

اووم فصل: په بیان دتعزیت کی

دقبرستان څخه چی راسی نودمړی وارثانو ته دصبر تلقین کول څنګه دی؟ سوال: (۳۱۰۰) دا رواج دی چی خلګ دمړی ددفن کولو څخه وروسته دقبر څخه واپس راسی نودمړی وارثانو ته تسلی اوتشفی اودصبر تلقین کوی اوس بعضی ملګری دافرمایی چی ددفن څخه په واپسی باندی دمړی کورته راتلل نه دی په کار دابدعت دی نودا خبره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په شامی کی یی دی ته مکروه ویلی دی، ویکره له الجلوس فی بیته حتیٰ یاتی الیه من یعزی بل اذا فرغ ورجع الناس من الدفن فلیتفرقوا ویشتغل الناس بامورهم وصاحب البیت بامره [3].

= ط. س. ج۲ ص ۲۳۲). ظفیر

[1]. ولاباس بنقله قبل دفنه (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص۸۴۰ ط. س. ج۲ ص ۲۳۹). ظ

[2]. يؤخذ من ذلك ومن الحديث ندب وضع ذلك للاتباع، ويقاس عليه ما اعتيد في زماننا من وضع أغصان الآس ونحوه، وصرح بذلك أيضا جماعة من الشافعية، وهذا أولى مما قاله بعض المالكية من أن التخفيف عن القبرين إنما حصل ببركة يده الشريفة ﷺ أو دعائه لهما فلا يقاس عليه غيره. وقد ذكر البخاري في صحيحه أن بريدة بن الحصيب رضي الله عنه أوصى بأن يجعل في قبره جريدتان، والله تعالى أعلم . (ردالمحتار قبيل باب الشهيد مطلب وضع الجديد ج۱ ص ۸۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۵). ظفیر

[3]. ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۱. ددی څخه معلومه سوه چی درواج په طور باندی راتلل اوکښېنستل مکروه دی، لیکن که چیری څوك دصبر دتلقین دپاره دخپل تعلق په وجه سره راسی نو دابه مکروه نه وی. والله اعلم . ظفیر

دحضور ﷺ پروفات باندي دحضرت فاطمي رضي الله عنها غم كول: **سوال:** (٣١٠١) دخاوند څخه ماسوا دبل چاپه وفات باندی ددرو ورځو څخه زيات غم كول ناجائزدی ليكن دپيغمبر ﷺ لور حضرت بی بی فاطمه رضي الله عنها دحضور ﷺ پروفات باندی تر شپږو مياشتو پوری غم كړی وو ددی به څه توجيه وی؟

جواب: غم اوخفگان بی اختياره دی، په دی كی شرعًا څه تحديد نسته اوپابندی هم نسته باندی ، ممنوع داده چی ماتمی لباس وغيره واچوی، نودا ځينی ثابت نه دی.

دمسافر دپاره ددرو ورځو څخه وروسته دتعزيت اجازت: **سوال:** (٣١٠٢) په بهشتی گوهر كی دی چی ددرو ورځو څخه وروسته تعزيت مكروه دی ليكن څوك چی په سفركی وی دهغه دپاره كراهت نسته، نودا خبره دكم كتاب څخه منقول ده؟

جواب: داخبره په درمختار كی ده، وتكره بعدها الا لغائب (١) الخ. فقط

ايا دوباره تعزيت مكروه دی، اودخط څخه وروسته مخ په مخ دتعزيت څه حكم دی: **سوال:** (٣١٠٣) هم داركم په ذكر سوی كتاب كی دی چی دوباره تعزيت مكروه دی. نوكه چيری دخط په ذريعه تعزيت وركول سوی وی، بيا دوباره مخ په مخ تعزيت په ژبی سره بغير دكراهت څخه جائزدی اوكه نه؟

جواب: فی الدر المحتار ايضا وتكره التعزية ثانيا (٢)، داعام دی چی اولا په ليك سره وی اوثانيا بالمشافهه وی يابرعكس وی. فقط

دتعزيت موده تركله پوری ده: **سوال:** (٣١٠٤) فاتحه خوانی اوتعزيت ترڅو ورځو پوری دی اوپه كمو الفاظو سره مسنون دی؟ دماتم والا پركور باندی اوكه نه په جومات كی؟

جواب: تعزيت تردری ورځو پوری دی، اودهغه څخه وروسته مكروه دی ليكن كم سړی چی هغه وخت نه وی هغه يی بيا وروسته كولی سی، په تعزيت كی دي دتسلی كلمات وی يعنی داقسم چی صبر وكړه الله جل جلاله به ددی صبر اجر دركړی وغيره، اودتعزيت دپاره په جومات كی كښېنستل مكروه دی بلكی په كوركی دي وی (٣). فقط

اتم فصل : دقبرونو زيارت او ايصالِ ثواب

دزنانه ؤ قبرونوته نه تلل ښه دی: **سوال:** (٣١٠٥) كم سړی چی زنانه دخپل ځان سره قبرستان

---

(١). و (٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز بعد مطلب كراهية الضيافة ج١ ص ٨٨٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤١. ظفير

(٣). ولاباس الخ بالجلوس لها فی غير مسجد ثلاثة ايام اولها افضلها وتكره بعده لغائب ويقول عظم الله اجرك واحسن عزاءك وغفر لميتك (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز قبيل مطلب فی زيارة القبور ج١ ص ٨٤٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤١). ظفير

ته بوځی اودقبرونو زيارت باندی کوی نودهغه دپاره څه حکم دی؟

جواب: صحيح خبره داده چی ښځولره قبرستان ته تلل نه دی په کار ځکه چی په هغوی کی صبرکم وی هغوی به هلته جزع فزع کوی، باقی په دی کی اختلاف دی، راجح همداده چی ښځی دي قبرونو او زيارت ته نه ځی (١). فقط

دجنازي دلمانځه څخه وروسته ايصال ثواب: **سوال**: (٣١٠٦) دجنازی دلمانځه څخه وروسته اوددفن کولو څخه مخکی دمړی وارثان لمونځ گذارو ته وايی چی تاسی دری واره سورة اخلاص وواياست اومړی ته يی ثواب وبخښی.

جواب: په ايصال ثواب کی څه حرج نسته، نوکه چيری دجنازی دلمونځ څخه وروسته ټول خلگ يابعض سورة اخلاص دری واره ووايی اومړی ته يې ثواب ورسوی نوپه دی کی څه حرج نسته (٢)، البته دعاء دجنازی دلمانځه څخه وروسته فقهاؤ مکروه ليکلی ده، ځکه چی دجنازی لمونځ پخپله دمړی دپاره دعاء ده (٣) نو ددی څخه وروسته بله کمه دعاء مشروع نه ده (٤). فقط

ديوشی ثواب په ډيرو وختونو کی ډيرو کسانو ته رسول څنگه دی؟ سوال: (٣١٠٧) که چيری ثواب دقرآن پاك يادطعام يادکيږی په يووخت کی يوسړی ته ورسوی اوبياپه بل وخت کی بل مړی ته اوپه دريم وخت کی يې دريم مړی ته ورسوی، نودا ثواب به دری واړو مړوته ورسيږی اوکه نه مخکنی مړی ته درسيدلو څخه وروسته به منقطع سی، اودوهم اودريم ته به څه نه ورکول کيږی؟

جواب: که چيری په يوه وخت کی ډيرو مړوته ثواب ورسوی نوټولو ته رسيږی، اوکه چيری يی هغه ثواب اول يوه مړی ته ورسوی نوبياپه بل وخت کی دهمدغه صدقی اوقرآن پاك ثواب بل مړی ته نه سی رسولی ځکه چی هغه ثواب اول مړی ته ورسيدی (٥). فقط

د ډيرو کسانو په نوم په ايصال ثواب کولو سره ثواب تقسيميږی او که نه پوره رسيږی : سوال :

---

(١). وبزيارة القبور ولو للنساء لحديث كنت نهيتكم عن زيارة القبور الا فزروها (درمختار) قوله ولوللنساء وقيل تحرم عليهن والاصح ان الرخصة ثابتة لهن بحر، وجزم فى شرح المنية بالكراهة الخ فلاباس اذاكن عجائز ويكره اذا كن شباب كحضور الجماعة فى المساجد (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فى زيارة القبور ج١ ص ٨٤٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤٢). ظفير

(٢). ويقرا يٰس وفى الحديث من قرأ الاخلاص احدعشر مرة ثم وهب اجرها للاموات اعطى من الاجربعدد الاموات (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فى القرآءة للميت ج١ ص ٨٤٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤٢). ظف

(٣). مصلى الجنازة ينوى الصلوة لله تعالى وينوى ايضا الدعاء للميت الخ (ايضا باب شروط الصلاة ج١ ص٣٩٣).

(٤). ويسلم بلا دعاء بعد الرابعة (ايضا باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨١٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٢). ظفير

(٥). نعم اذافعله لنفسه ثم ينوى جعل ثوابه لغيره لم يكف الخ (ردالمحتار ج١ ص ٨٤٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤٣). ظ

(۳۱۰۸) دمړو ارواحو ته په ثواب رسولوکی تقسیم دی اوکه نه مساوات دی مثلاً یو قرآن پاك يي ختم کی اوددرو کسانو روحونو ته یی ایصال وکی نوایا هر یوه ته به په برابروالی سره دپوره پوره ختم ثواب ورکول کیږی اوکه نه په دری واړو کسانو باندی به دیو ختم ثواب تقسیمیږی، بینوا تؤجروا؟

جواب: په شامی کی یی دواړه قوله نقل کړی دی، دقیاس موافق تقسیمیدل په کاردی، کما قال فی ردالمحتار ویوضحه انه اهدی الکل الی اربعة یحصل لکل منها ربعه فکذا لواهدی الربع لواحد وابقی الباقی لنفسه ؒ (۱)، بیایی دابن حجر مکی رحمه الله خخه دانقل کړی دی چی یوجماعت پردی باندی فتوٰی ورکړیده چی هریوه ته پوره پوره ثواب ورکول کیږی اودیته یی دوسعت فضل لائق ویلی دی (۲). فقط

<u>که چیری په ایصال ثواب کی دمور او دپلار سره نور خلک شریک کړی نو ثواب به ټولو ته ورکول کیږی</u>: **سوال**: (۳۱۰۹) یوسړی سورة فاتحه یابل یوسورة یادوه رکعاته نفل وکړل اودخپل پلار یامور یاپیر یا داستاذ روح ته یی دمومنانو سړو اوښځو سره وبخښی، دا ثواب یی صرف دپلار روح ته ورسوی اوکه ټولو ته به دغه رکم ثواب ورسول سی اوکه نه په خاص کولو سره یعنی صرف دپلار یا داستاذ نوم واخیستل سی هلته به پوره ثواب ورکول کیږی؟

جواب: که چیری ټولوته یی ثواب ورسوی نوټولو ته ورسیدی، حصه حصه ثواب ټولو ته رسیږی، اوټول شریکول ښه دی (۳). فقط

<u>بی نمازه ته هم ثواب په رسولو سره رسیږی</u>: **سوال**: (۳۱۱۰) که چیری یو سړی بینمازه مړ سی اودهغه روح ته دصدقی وغیره ثواب ورسوی نورسیږی اوکه نه؟

جواب: کم مسلمان چی وفات سوی دی هغه ته ثواب رسیدلی سی، بینمازه مسلمان ته هم رسیدلی سی (۴). فقط

---

(۱). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۳. ظفیر

(۲). لکن ابن حجر المکی عما لو قرا لاهل المقبرة الفاتحه هل یقسم الثواب بینهم اویصل لکل منهم ثواب ذالك کاملا فاجاب بانه افتی بالثانی وهو اللائق بسعة الفضل (ردالمحتار باب الجنائز ج۱ ص ۸۴۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۴). ظفیر

(۳). سئل بن حجر مکی عمالو قرا لاهل المقبرة الفاتحة هل یقسم الثواب بینهم اویصل لکل منهم مثل ثواب ذالك کاملا فاجاب بانه افتی بالثانی وهو اللائق بسعة الفضل (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۴). ظفیر

(۴). بل فی زکوٰة التتارخانیة عن المحیط الافضل لمن یتصدق نفلا ان ینوی لجمیع المؤمنین والمؤمنات لانها تصل الیهم ولاینقص من اجره شیئ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی القرآة للمیت ج۱ ص ۸۴۴ ، =

سوال: (۳۱۱۱) **په ایصال ثواب کی فلان ابن فلان ویل ضروری دی اوکه صرف نوم کافی دی:** په ایصال ثواب کی به دفلان بن فلان ویلو ضرورت وی اوکه نه صرف دهغه نوم اخیستل به کافی وی که دپلار نوم یی معلوم نه وی نوصرف دهغه نوم اخیستل کافی دی، په نیت کی چی څه دی هغه الله ﷻ ته معلوم دی که دپلارنوم یی معلوم نه وی نوڅه حرج پکښې نسته ([1]). فقط

سوال: (۳۱۱۲) **خیرات چاته ورکول سی؟** کم سړی ته چی خوراك یانغدی یاکپړه ورکول سی نوهغه سړی دکم صفت کیدل په کاردی دلمانځه او دروژی پابنده دي وی یاڅه ضروری نه دی. دلمانځه اودروژی پابندی نه کونکی ته په ورکولو سره ایصال ثواب کیږی اوکه نه؟ اوپه کافر یاصاحب نصاب باندی په خوړلو یاورکولو سره به ایصال ثواب وسی اوکه نه؟

جواب: ثواب هریو حاجتمند ته په ورکولو کی سته لیکن مسلمان دلمانځه اودروژی پابنده ته په ورکولو کی زیات ثواب دی ([2]) باقی ددی خبرو تفصیل دفقهی په کتابونو کی دی، زبانی دي دیو عالم څخه وپوښتل سی ([3]). فقط

سوال: **دسماع موتٰی په باره کی دشاه عبد العزیز ﷫ طرفته دیوی غلطی خبری نسبت:** (۳۱۱۳) په کفایه، عنایه، فتح، شامی وغیره کی داحنافو دمذهب مطابق دسماع موتی انکاردی اوشوافع یی قائل دی، دحدیث قلیب بدر وغیره تاویل دُور ازکار کوی، لهذا شاه عبد العزیز ﷫ په خپله فتاوٰی کی تحریر فرمایی: انکار سماع موتی قریب به کفر است، ددی عبارت څه مطلب دی؟

جواب: دقلیب اوبدر دحدیث تاویل ته دُور ازکار ویل نهایتی قبیح دی، په قرن صحابه کی تاویل سویدی، حضرت عائشی صدیقی ﷞ داتاویل فرمایلی دی، اودقرآنی آیت سره دمطابق کولو دپاره که چیری په حدیث شریف کی هغه تاویل وسوکم چی قرین قیاس اودصحابه ؤ ﷡ څخه منقول دی نودیته دُور ازکار څنګه ویلی سو، ([4]) یا للعجب ویا

= ط.س. ج۲ ص ۲۴۳). ظفیر

([1]). وفی البحر من صام اوصلی اوتصدق وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز ویصل ثوابها الیهم عند اهل السنة کذا فی البدائع (ردالمحتار ج۱ ص ۸۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۳). ظفیر

([2]). فی الحدیث من قرأ الاخلاص احد عشر مرة ثم وهب اجرها للاموات (درمختار) وفي شرح اللباب ویقرأ من القرآن ما تیسر له من الفاتحة واول البقرة الی المفلحون ... ثم یقول اللهم اوصل ثواب ما قرأناه الی فلان او الیهم اهـ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز، مطلب فی القراءة للمیت واهداء ثوابها له ج۱ ص ۸۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۲). ظفیر

([3]). قال النبی ﷺ فاطعموا طعامکم الاتقیاء واولو معرفکم المؤمنین، رواه البیهقی (مشکوٰة باب الضیافة ص ۳۲۹). ظفیر

[باقی]

لضیعة الادب. اوحضرت شاه صاحب رحمه الله ته چی دغه قول منسوب دی کم چی تاسی نقل کړی دی غلط دی، دشاه صاحب رحمه الله هیڅ یوداسی فتوٰی په معتبر سند سره ثابته نه ده، دحضرت شاه صاحب رحمه الله غوندی یوبزرگ په داسی مسئله کی په کمه کی چی دصحابه ؤ اودمجتهدینو امامانو اختلاف وی اونصوص پکښی متعارض وی څنګه انکارکولی سی اوسماع ته قریب به کفر فرمایلی سی. نوذکرسوی قول شاه صاحب رحمه الله ته منسوب کول محض غلط اوبی اصل دی، داسی خبره هیڅ چیری دژبی څخه ایستل نه دی پکار اوددی تغلیط کول په کار دی. فقط

آیا په شرکت کی ثواب رسول مناسب دی؟ سوال: (٣١١٤) زه دخپلو سابقه معلوماتو مطابق دقرآن پاك دتلاوت ثواب درسول الله ﷺ روح مبارك ته سره دشریکولو دنورو پیغمبرانو اوددین دبزرګانو اوددوستانو قریبانو ارواحوته هدیه کوم خو په مطالعه کی می داسی راغلی دی چی اشتراك ښه نه دی افراد ښه دی، ملاحظه کړی مکتوب ١٨ دریم جلد ازمکتوبات شیخ احمد سرهندی مجدد الف ثانی، نوائنده ماته څه طریقه اختیارول پکاردی؟

جواب: دامضمون دمکتوب ١٨ نه دی بلکی دمکتوب نمبر ٢٨ صفحه ٧٢ ددریم جلد دامضمون دی چی حضور ﷺ ته دی په مستقل طور سره دبل چا دشرکت څخه بغیر ایصال ثواب ورکول سی چی بل مړی ته دهغوی په واسطی سره ثواب ورسوی، ښه خو همداده، پاته سوه هم داخبره چی په شرکت کی ثواب رسول څنګه دی؟ نوښکاره ده چی په هری طریقی سره جائزدی، که هغه افراداً وی اوکه شرکةً، په دی کی دهیچا کلام نسته (١). فقط

دقبرونو طواف درست نه دی: **سوال**: (٣١١٥) زید وایی چی دقبرونو طواف جائزدی اوپه استدلال کی دحضرت شاه ولی الله قول بیانوی آیا دزید قول صحیح دی اوکه نه؟ دشاه صاحب رحمه الله عبارت څه دی؟ اوزید داهم وایی چی که چیری دقبرونو طواف کامل څوك وکړی نودقبر والاوو ته فائده رسیږی، داهم صحیح ده اوکه نه؟ اوطواف کونکی اوجائز ګڼونکی ګنهګار په وعید سره دی اوکه نه؟

جواب: دزیدقول غلط دی طواف دکعبی شریفی سره مختص عبادت دی دغیرکعبی طواف

---

(٤). واجابوا عن هذا الحديث تارة بانه مردود عن عائشة رضي الله عنها قالت كيف يقول رسول الله ﷺ ذالك والله يقول وما انت بمسمع من فى القبور، انك لاتسمع الموتٰى الخ (مرقاة المفاتيح ج٤ ص ٢٤٢). ظفير

(١). قال يستحب اهداءها له ﷺ قلت وقول علمائنا له ان يجعل ثواب عمله لغيره يدخل فيه النبى ﷺ فانه احق بذلك (ردالمحتار باب صلوة الجنائز مطلب فى اهداء ثواب القراءة للنبى ﷺ ج١ ص ٨٤٥ ، ط.س. ج٢ ص ٢٤٤). ظفير

جائزنه دی، اودحضرت شاه ولی الله ﷫ عبارت اوس په دی وخت کی دبنده پیش نظرنه دی اونه ذکر سوی کتاب دبنده سره سته چی وکتل سی، بهر حال هغه په تصوّف کی دی که چیری په هغه کی څه وی هم نودهغه څخه په شرعی مسائلو کی استدلال نسی کیدلی اومعلومه نه ده چی هغه (قول) پرکم محل باندی اوپرکم طرز باندی دی، اوهغوی ددی جائز کیدل هم لیکلی دی اوکه نه؟ موږته دشریعت داتباع حکم دی اودا خو ظاهره ده چی په شریعت کی بغیر دکعبی شریفی څخه هیڅ چاته دطواف کولو اجازه نسته. قال الله تعالٰی وعهدنا الی ابراهیم واسمٰعیل ان طهرا بیتی للطائفین والعاکفین والركع السجود (١) الاية. فقط

داهل قبورو څخه استمداد جائزدی اوکه نه؟ سوال: (٣١١٦) داهل قبورو څخه داستمداد دجواز داحنافو په نزد څه صورة سته اوکه نه؟

جواب: داهل قبورو څخه استمداد که چیری په دی عقیده وی چی هغوی متصرف فی الاموردی لکه څنګه چی دعوامو عقیده ده نودادرست نه دی، بلکی په دی کی دکفر بیره ده، په شامی کی دی، ومنها انه ان ظن ان المیت یتصرف فی الامور دون الله تعالٰی واعتقاده ذلك كفر الخ (٢)، اوکه چیری مطلب ددی داوی چی دباری تعالٰی څخه دهغوی په ذریعه دعاء وغواړی چی ای الله زمافلانکی کار دفلانی بزرګ په برکت سره پوره کړی نو داجائز دی. فقط

دایصال ثواب څه حکم دی؟ سوال: (٣١١٧\١) اجلاس القاری علی القبور وهو مختار صاحب فتح القدير، ص ٣٠١، فتاوٰی قاضی خان ص ٧٨، فتاوٰی عالمګیری ج١ ص ١٣٣، مجمع الانهٰر ص ١٨٨، در الاحکام ص ١٢٨، خلاصة القاری ص ٣٤٤، فتاوٰی غیاثیه ص ٤٥، فوائد سمیه ص ١٤٤ کبیری ص ٥٧٤، صغیری، روح البیان، فتاوٰیه مصریه، درالمختار وغیره دفقهی په کتابونو کی په علامه دفتوٰی مذکور دی، آیا دا مسئله صحیح ده اوکه نه غلطه ده؟

دبعضو روایتونو په باره کی سوال: (٣١١٨\٢) تصدقوا لموتاکم قبل الدفن الخ تفدوا لموتاکم بعد الدفن الخ، په شرح برزخ اوزاد الاخرت وغیره دفقهی په کتابونو کی دی، دلته دستور دادی چی دمړی وارثان دخپل وس مطابق حافظانو اوقاریانو اوعالمانو او طالبانو اونورو فقیرانو اومسکینانو لره دعوت ورکړی راجمع یی کړی اوخیرات ورلره کله خوددفن څخه وروسته اوکله ددفن څخه مخکی اوکله دجنازی څخه وروسته اوکله

---

(١). البقرة : رکوع ١٥. ظفیر

(٢). ردالمحتار قبیل باب الاعتکاف ج٢ ص ١٧٥ مطلب فی النذر الذی یقع للاموات ط.س. ج٣ ص٧٣٩. ظفیر

دجنازی څخه مخکی دپاره دآسانتیا اودمړی دفائدی دپاره ورکوی، اوپه طحطاوی شرح مراقی الفلاح کی دی، والسنة ان یتصدق ولی المیت قبل مضی اللیلة الاولی بما تیسر الخ، آیا داروایتونه صحیح دی؟ اودغه صورة مسئوله جائزدی اوکه څنګه؟

دمظاهر حق په حوالی سره دیوی مسئلی تصدیق: **سوال**: (۳۱۱۹\۱۳) په مظاهرِ حق (شرح دمشکوٰة) دوهم جلد باب النذور کی دی: فاتحه دبزرګانو ددین اونذر اونیاز دهغوی یی درست اوجائز لیکلی دی، او دهغه خوړل روا دی، آیا دامسئله صحیح ده اوکه غلطه؟

جواب: ۱\: لوجه الله دقرآن کریم ویل اومړی ته دهغه ثواب رسول عمده دی، اوپه دی کی دهیڅ خلاف نسته، لیکن استیجار علی التلاوت څنګه چی رواج دی دادرست نه دی، لکه چی په شامی کی دی، فی الولوالجیة ولو زار قبر صدیق أو قریب له وقرأ عنده شیئا من القرآن فهو حسن، أما الوصیة بذلك فلا معنی لها، ولا معنی أیضا لصلة القارئ، لان ذلك یشبه استیجاره علی قراءة القرآن وذلك باطل، ولم یفعل ذلك أحد من الخلفاء اه الخ ([1])، والتفصیل فی باب الاجارة الفاسدة، نو داوجوه دی دکموپه وجه سره چی په دی زمانه کی اجلاس القاری منع کیږی.

۲\: دا روایات بی اصله دی اوهغه خرابی داستیجار علی التلاوة دلته هم ده، اودلته المعروف کالمشروط مسئله ده اوپه داسی ویلوسره ثواب نه کیږی کماحققه فی الشامی بما لا مزید علیه.

۳\: دمړو دپاره دایصال ثواب په استحباب کی څه تامل نسته بغیر دقیودو اودمخترعه وو رسمونو څخه ایصال ثواب الی الاموات جائزدی ([2]) دغه مطلب دمظاهر حق دعبارت نه دی.

سوا (پاؤ) بالا یولک درود شریف یی ۲۵ کسانو ته وبخښی نوثواب به څنګه ورسیږی: **سوال**: (۳۱۲۰) که چیری سوا لك واره درود شریف یو سړی ووایه، اودهغه ثواب پنځه ویشت مړوته رَسَول وی، نو وفرمایاست چی هریو مړی ته به ثواب دسوا لك رسیږی اوکه نه په (۲۵) حصو کیدلو سره به هم هر یوه ته رسیږی؟

جواب: پنځه ویشت حصی به سی اوهریو مړی ته به دپنځو زرو ثواب رسیږی اوبعضو علماؤ دافرمایلی دی چی هریوه ته به پوره ثواب ورکول کیږی، والاول اقیس والثانی اوسع. کذا فی الشامی ([3]).

([1]). ردالمحتار کتاب الاجارة مطلب فی الاستیجار علی الطاعات ج۵ ص ۴۷ ، ط. س. ج۲ ص ۵۷. ظفیر

([2]). وفی البحر من صام اوصلی اوتصدق وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز ویصل ثوابها الیهم عند اهل سنة والجماعة کذا فی البدائع (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی القرآئت للمیت ج۱ ص ۸۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۳). ظفیر

([3]). سئل ابن حجر المکی عما لوقرأ لاهل المقبرة الفاتحة هل یقسم الثواب بینهم اویصل لکل منهم مثل ثواب =

<u>دقرآن كريم ثواب به څنګه رسوي؟</u> سوال: (٣١٢١) آيا دقرآن مجيد دثواب رسولوبه همدا صورة وي؟ **جواب:** هو! همدا صورة به يي وي.

<u>مړوته ثواب څنګه رسيږي؟</u> سوال: (٣١٢٢) مړو ته ثواب په كمي ذريعي سره رسيږي؟

جواب: دملائكو په ذريعه، ياپه كمي ذريعي سره چي حق تعالى غواړي رسوي يي.

<u>دمړو ارواحو ته ايصال ثواب</u>: سوال: (٣١٢٣) دمړو ارواحو ته دثواب رسولو په وخت كي ماسوا دتفريح (يعني دزړه خوشحاليدلو) څخه بل څه معلوميږي؟

جواب: دنيكو عملونو چي كم قسم ثواب دي هم هغه ورته رسيږي.

<u>ايا مړي ته ويل كيږي چي داثواب دفلاني دطرف څخه دي</u>: سوال: (٣١٢٤) ايا دغه مړي ته داهم ويل كيږي چي ستا فلاني قريب يادوست داتحفه راليږلي ده، اوددي خبري ويونكي څوك وي، فرشته وي اوكه نه بل څوك وي؟

جواب: داسي هم وارد سويدي چي هغه ته ويل كيږي او ويونكي فرشته وي.

<u>آيا دقيامت څخه مخكي انساني روح په قبر كي اوسيږي؟</u> سوال: (٣١٢٥\١) زيد وايي چي دمرګ څخه وروسته ترقيامته پوري دانسان روح په قبركي اوسيږي داخبره درسته ده او كه نه؟

<u>دمرګ څخه وروسته عذاب بدن ته وي اوكه روح ته اوكه نه دواړو ته؟</u> سوال: (٣١٢٦\٢) دمرګ څخه وروسته عذاب روح ته وي اوكه بدن ته اوكه نه دواړو ته وي؟

جواب: ١\. په قبركي هم تعلق دروح وي اواصل ځاى (مستقر) يي عليين ياسجين دي. ([1])

٢\. عذاب پر روح باندي سره دبدنه وي لكه څنګه چي دحديثو پاكو دظاهر څخه ثابت دي ([2]). فقط

= ذالك كاملا. فاجاب بانه افتى جميع بالثانى وهو اللائق بسعة الفضل (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فى القرآئت للميت ج١ ص ٨٤٥ ، ط. س. ج١ ص ٢٤٤). ظفير

([1]). قاضي ثناء الله رحمه الله دداقسم ټولو احاديثو مباركو دنقل كول څخه وروسته ليكي: حافظ ابن حجر عسقلانى ميگويد كه ارواح مسلمانان درعليين وارواح كفار درسجين وهر يك روح را باجسد خود اتصال باشد معنوى كه مشابه ان اتصال نيست كه درحيات دنيا بود. بلكى اگر مشابهت داده شود بحال خفته داده شد. ليكن آن اتصال خفته قوى تر است. شيخ جلال الدين سيوطى گفته كه به اين تقرير آنچه درحديث آمد كه جاى قرار شان درعليين وسجين است وانچه ابن عبدالبر ازجمهور نقل كرده كه نزديك قبور اندجمع مى شوند الخ (تذكرة الموتى والقبور ص ٢٣٨) ثم اعلم ان الروح لها بالبدن خمسة انواع ؎ والرابع تعلقها به فى البرزخ فانها وان فارقته وتجردت عنه فانها لم تفارقه فراقاً كليا بحيث لا يبقى لها اليه التفات البتة فانها واردة اليه وقت سلام المسلم عليه وورد انه يسمع خفق نعالهم حين يولون عنه وهذا الرد اعادة خاصة لا يوجب حياة البدن قبل يوم القيامة (شرح فقه اكبر ص ١٥٤). ظ

([2]). والحاصل ان احكام الدنيا على الابدان والارواح تبع لها واحكام البرزخ على الارواح والابدان تبع لها واحكام الحشر والنشر على الارواح والاجساد جميعا (شرح فقه اكبر ص ١٥٤). ظفير

په قبرکی دمړی سره عهدنامه ایښوول څنګه دي؟ سوال: (۳۱۲۷) دمړی سره عهدنامه وغیره په قبر کی ایښوول څنګه دی جائزدی اوکه نه؟

جواب: جائزنه دی، ددی څخه فقهاؤ منع فرمایلی ده دبیری دتلویث بالنجاست څخه ددی تفصیل په شامی کی دی (۱).

دجنازی دلمانځه څخه وروسته ایصال ثواب اوپر مباح کارباندی اصرار: **سوال**: (۳۱۲۸) په مرقاة شرح مشکوٰة جزء خامس مصری ص ۵۴۸ کی دی: وفی روایة لهما وانه وضع عمر علی سریره فتکفنه الناس یدعون ویثنون ویصلون علیه قبل ان یرفع وانا فیهم فلم یر عنی الا رجل قد اخذ منکبی من ورائی فالتفت اذا هو علی بن ابی طالب فترحم علی رضی الله تعالی عنه علی عمر رضی الله تعالی عنه.

۲. کفایه باب الجنائز، روی ان رجلا فعل هکذا بعد الصلوٰة فرآه رسول الله ﷺ فقال ادع استجب لك.

۳. عنایه باب الجنائز روی ان رسول الله ﷺ رای رجلا فعل هکذا بعد الفراغ من الصلوٰة فقال ادع الخ.

۴. دقسطلانی په جزء رابع کی پرحاشیه باندی شرح مسلم امام نووی مصری ص ۳۰۲، قوله : حفظت من دعائه ای علمنیه بعد الصلوٰة فحفظته.

۵. رد وهابیه ص ۲۰، ونیز درشرح برزخ ارقام نموده تصدق وخواندن قرآن مجید برمیت ودعاء درحق اوقبل برداشتن جنازه پیش ازدفن سبب نجات ازاحوال آخرت وعذاب قبراست.

۶. په رفاه المسلمین ص ۹۲ کی مروی دی چی دمړی په ګورکی دایښولو په وخت کی به حضور ﷺ دا دعاء وویله: اللهم اغفرله وارحمه وعافه واعف عنه.

۷. جوهره نیره، حتٰی یؤدوا حقه بالصلوٰة علیه والدعاء له، انتهٰی.

۸. شامی، وصول القرائت للمیت اذا کانت بحضرته او دعی له عقبها ولو غائبا لان محل القرآئة تنزیل الرحمة والبرکة والدعاء عقبها اوحی للقبول.

۹. قال رسول الله ﷺ اقروا یٰس علی موتاکم.

۱۰. نماز مترجم مولانا ابو البشیر صاحب ص ۸۵، وروسته دجنازی دلمانځه څخه دي ټول خلګ کښینی، قل هوالله شریف یوولس واره او، الحمد، شریف لس واره دي ووایی او دمړی ارواحو ته دي وبخښی.

---

(۱). وفی فتاوٰی المحقق ابن الحجر المکی الشافعی عن کتابة العهد الخ هل یجوز ولذالك اصل؟ فاجاب الخ قد افتی ابن الصلاح بانه لایجوز ﷺ خوفامن صدیدالمیت ﷺ (ردالمحتار قبیل باب الشهید ج۱ ص ۸۴۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۲). ظفیر

۱۱. تنبيه الغافلين ص ۷۳، ښه طريقه دثواب رسولو دمړی په حق کی داده چی ددفن څخه مخکی څومره کيدی سی کلمه مبارکه ياقرآن کريم يادرود شريف يابل يو سورة دي ووايی اوثواب دي ور وبخښی.

۱۲. مظاهر حق كتاب الجنائز تحت حديث ابن عباسؓ يعنی سورة فاتحه دي دجنازی په لمانځه کی ووايی، لکه څنګه چی دابن عباسؓ په حديث شريف کی تير سوه، يا پرجنازی باندی دلمانځه څخه وروسته يا دلمانځه څخه مخکی دتبرك په نيت يې ويلی وی.

۱۳. امام محمود بدر الدين عينی په شرح صحيح بخاری کی دموعظة المحدث عند الغير ترباب لاندی بيان فرمايی: مصلحة الميت ان يجتمعوا عنده لقرآئة القرآن والذكر فان الميت ينتفع به.

۱۴. مشکوٰة ص ۱۱۲، عن ام سلمة ﵂ قالت، قال رسول الله ﷺ اذا حضرتم المريض او الميت فقولوا خيراً فان الملائكة يؤمنون على ما تقولون.

۱۵. جواهر النفيس شرح در الكيس ص ۱۳۲: وفی نافع المسلمين رجل رفع يديه بدعاء الفاتحة للميت قبل الدفن جاز.

سوال: دپورته ليکل سوو دلائلو څخه دجنازی دلمانځه دسلام څخه وروسته ايصال ثواب په سورة فاتحی سره اوسورة اخلاص سره سنت ثابتيږی اوکه بدعت حسنه يابدعت سيئه، صرف ثبوتی پوښتنه کوم بغير داجتماع او اهتمام او ضروری ګڼلو څخه؟

جواب: مستحب اومباح کارونه په اصرار اوالتزام سره بدعت کيږی، عن عبدالله بن مسعودؓ ولا يجعل احدكم للشيطان شيئا من صلوته يرٰی ان حقا عليه ان لاينصرف الاعن يمينه لقد رايت رسول الله ﷺ كثيراً ينصرف عن يساره، قال القاری فی المرقاة فی شرح هذا الحديث من اصر على امر مندوب وجعله عزماً ولم يعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشيطان من الاضلال فكيف من اصر على بدعة ومنكر انتهٰی، وفی العالمگيرية: وما يفعل عقب الصلوٰة مكروه لان الجهال يعتقدونها سنة واجبة وكل مباح يؤدی اليه فمكروه (۱)، انتهٰی، فقط والله تعالٰی اعلم

كتبه عزيز الرحمٰن عفی عنه ۲۲ \صفر \ سنه ۱۳۳۵ھ

ايصال ثواب: **سوال**: (۳۱۲۹) مړی ته دصدقی اودخيرات ثواب رسيږی اوكه نه؟ اودمړو دپاره دژوندو دعاء نافع ده اوكه نه؟

جواب: مړی ته دصدقی اودخيرات او دتلاوت ثواب رسيږی اهل السنت والجماعت په اصل ايصال دثواب کی متفق دی، په بدنی عباداتو کی اختلاف دی، حضرت امام ابو

(۱). مرقاة المفاتيح ج۲ ص ۱۴. ظفير

حنیفه رحمه الله اوامام احمد اوجمهور سلف اوخلف په بدنی عباداتو کی دثواب رسیدلو قائل دی، اوامام مالك اوامام شافعی رحمهما الله دعدم وصول قائل دی اودمالی صدقاتو په ثواب کی هیڅ اختلاف نسته، په دی کی ټول متفق دی مړو ته دایصال ثواب دلائل او ددی خبری چی مړوته دژوندو په دعاء او صدقی او خیرات سره او دقرآن کریم وغیره په ثواب رسولو سره نفع کیږی په کثرت سره دی، اما الایات المبارکات فمنها! رب ارحمهما کما ربیانی صغیرا، رب اغفر لی ولوالدیّ ولمن دخل بیتی مؤمناً وللمؤمنین والمؤمنات، ربنا اغفر لنا ولاخواننا الذین سبقونا بالایمان، واما الاحادیث: فعن سعد بن عبادة فانه قال یارسول الله ان أم سعد ماتت فأی الصدقة افضل قال ﷺ الماء فحفر بیرا وقال هذه لأم سعد. اخرجه ابوداود، نسائی، مشکوٰة، قال القونوی والاصل فی ذالك عند اهل البیت ان للانسان ان یجعل ثواب عمله لغیره صلوةً اوصوماً اوحجاً اوصدقةً او غیرها، والشافعی رحمه الله (شرح الفقه اکبر لملا علی القاری)

پرقبرونو باندی دعاء غوښتل درست دی اوکه نه؟ سوال: (۳۱۳۰) دفقیرانو اودولیانو او صالحانو پرقبرونو باندی دفاتحه خوانی څخه وروسته چی کم خلګ دعاء غواړی که چیری دا درسته وی نوپه کمه طریقه باندی؟

جواب: په داشان سره ددعاء ویل درست دی چی یا الله په برکت دخپلو نیکو بندګانو زما حاجت پوره کړی (۱). فقط

دښځی دپاره قبرته دتللو اجازه سته اوکه نه؟ سوال: (۳۱۳۱) زما دخور قبر په مردانه کور کی دی زما مور دزنانه کور څخه کم چی ډیر نژدی دی دهغه قبرته ورتلل غواړی، هیڅ قسم آه اوبکا اوبی صبری وغیره به نه کیږی، نو تلل ورته جائزدی اوکه نه؟

جواب: بعضو فقهاؤ ددی اجازه ورکړیده، په دی شرط چی آه اوبکانه وی، لیکن احوط نه تلل دی (۲). فقط

چی لس سیپاری دری واره ووایی اوایصال ثواب وکی نودپوره قرآن کریم ثواب به وی اوکه نه؟ سوال: (۳۱۳۲) که چیری یوسړی ته پوره قرآن کریم یاد نه وی صرف لس سیپاری

---

(۱). ویجوز التوسل الی الله تعالی والاستغاثة بالانبیاء والصالحین بعد موتهم (بریقه محمودیه ج۱ ص ۲۷۰). ظ

(۲). وبزیارة القبور ولو للنساء لحدیث کنت نهیتکم عن زیارة القبور الا فزوروها (درمختار) قوله: بزیارة القبور ای لاباس بها بل تندب الخ وقوله: ولو للنساء، وقیل تحرم علیهن. والاصح أن الرخصة ثابتة لهن. بحر. وجزم في شرح المنیة بالکراهة وقال الخیر الرملي: إن کان ذلك لتجدید الحزن والبکاء والندب علی ما جرت به عادتهن فلا تجوز الخ وإن کان للاعتبار والترحم من غیر بکاء والتبرك بزیارة قبور الصالحین فلا بأس إذا کن عجائز. ویکره إذا کن شواب کحضور الجماعة في المساجد (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی زیارة القبور ج۱ ص ۸٤۳ ، ط. س. ج ۲ ص ۲٤۲). ظفیر

ورته يادوى اودى هغه سيپارى درى واره ووايى نوپه دى صورة كى به مړى ته دپوره قرآن كريم ثواب ورسيږى اوكه نه صرف دلسو سيپارو؟

جواب: دپوره قرآن كريم ثواب خوبه په دى سره حاصل نسى، البته دلسو سيپارو درى چنده ثواب به ورته حاصل سى، په هرحال كى پوره قرآن كريم نه سى كيدى نوهمدا ښه ده چى لس سيپارى بار بار ووايى اوثواب ورسوى، ثواب به يى مړى ته ورسيږى. فقط

سوال: (٣١٣٣) مړى ته دنفلو ثواب رسول كيږى ؟ (١)

دروا‌ج په طور سره دمړى دنيكى تذكره دجنازى دلمانځه څخه وروسته څنګه ده؟ سوال:

(**٣١٣٤**) اگر شخص از اهل اسلام بمرد بعد از نماز جنازه بسبب جهالت وعدم تعارف ورثاء ميت ازمسائل شرعيه مولوى صاحب بدستور دلالت على الخير وتبليغ حكم شرعيه وارث مرده را براين امر تلقين دهد كه تونيكى مرده را برد بروى جماعت موجوده بيان كن وهمه رابر سعادتش گواه كن پس وارث مرده برخاسته افعال جميله او بيان كند وبراعمال حسنه اوهمه حاضرين راشاهد گرداند اگر چى در زندگى چندان عمل خير ازو مصدر نه شده باشند بلكى گاهى گاهى، اين جائز است يانه چنانچى حضور ﷺ فرموده: انتم شهداء الله فى الارض، وعن أنس قال: مروا بجنازة فأثنوا عليها خيرا. فقال النبي صلى الله عليه وسلم: "وجبت" ثم مروا بأخرى فأثنوا عليها شرا. فقال ﷺ : "وجبت" فقال عمر: ما وجبت ؟ فقال ﷺ : "هذا أثنيتم عليه خيراً فوجبت له الجنة وهذا أثنيتم عليه شراً فوجبت له النار أنتم شهداء الله في الأرض" ، مشكوٰة باب المشى بالجنازة.

جواب: حاصل اين حديث كه ازمشكوٰة شريف نقل كرده است اين است كه ميت كه مردمان برو ثناء خير كنند واز نيكى ياد كنند اوجنتى است وآن ميت كه اورا مردمان بد گويند آن بداست ودوزخى است، درديگر روايت است كه محاسين مردگان ذكركرده شوند نه بدى اوشان وليكن اين تكلفات كه در سوال مذكور است كه به تصنع وتكلف آنچه آن ميت ازكارهاى خيرنه كرده است بدونسبت كرده شوند ارتكاب كذب بى وجه كرده شود ماذون شرعى نيست البته آن ميت انچه اوكارهاى نيكو كرده است اگر تذكره اوشود وان امور راذكر كرده شود نه مبالغه درآن كرده شود ونه كتمان حق كرده شود پس اين تلقين كه مولوى صاحب مذكور بورثاء ميت ميكند ثابت نيست ودرتكلف داخل است كه نهى ازآن دركلام الٰهى مذكور است. وما انا من المتكلفين. فقط

پرقبر باندى په لاس پورته كولو سره فاتحه ويل: سوال: (٣١٣٥) چى قبرته ودريږى اودلاس

---

(١). وفى البحر من صام اوصلى اوتصدق وجعل ثوابه لغيره من الاموات والاحياء جاز ويصلى ثوابها اليهم عند اهل السنة (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨۴۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢۴٣). ظفير

په پورته کولو سره فاتحه وغيره وايي نو دا څنګه دی؟

جواب: په شرح شرعة الاسلام کې دي: قال في الاحياء والمستحب لزيارة القبور ان يقف مستدير القبلة مستقبلاً لوجه الميت الخ (١)، ددې روايت څخه اودنورو هغه احاديثو څخه کم چې دقبرونو دزيارت په باره کې وارد سوي دي لاسونه پورته کول دايصال ثواب په وخت کې ثابت نه دي. فقط

دبزرګانو دفاتحې دپاره دتاريخ تعين ضروري نه دی: **سوال**: (٣١٣٦) ددين دبزرګانو فاتحه په يوخاص تاريخ باندې کول په کاردي اوکه نه کله چې ممکن وي، آياپه خاص تاريخ باندې په کولو سره ثواب زيات ورکول کيږي؟

جواب: دخاص تاريخ ضرورت نسته (٢)، اونه په دې کې دثواب زياتوالی ثابت دی. فقط

ايصال ثواب په کمه ورځ ښه دي؟ **سوال**: (٣١٣٧) دمړي دپاره ايصال ثواب په اوله ورځ ښه دی اوکه نه په دوهمه يا دريمه وغيره ياټولې ورځې په ايصال ثواب کې برابرې دي. يا ددريمې اولسمې ورځې قيد بدعت دی؟

جواب: داولې ورځې او ددريمې ورځې اودلسمې او څلويښتمې قيد ختمول په کاردي، شرعًا داتخصيصات دايصال ثواب دپاره واردنه دي لهذابدعت اوحرام دي، بغير دورځې اودتاريخ دقيد څخه چې کله غواړې ايصال ثواب وکړې په څلورمه ياپنځمه يا اوومه ورځ ياپه بله کمه ورځ باندې دتخصيص څخه بغير ډوډې وغيره فقيرانو لره ورکړې، دارسوم اوتخصيصات کم چې عوامو مقرر کړې دي ددې څه اصل نسته، هره يوه ورځ دايصال ثواب دپاره برابره ده (٣). فقط

دجنازې دلمانځه څخه وروسته ايصال ثواب: **سوال**: (٣١٣٨) دجنازې دلمانځه څخه وروسته اوددفن څخه وروسته اوددفن څخه مخکې ديوځولمونځ ګذارودايصال ثواب دپاره سورة فاتحه يووار اوسورة اخلاص درې واره په کرار اواز سره ووايي اودجنازې دامام يادبل يونيك سړي دواړه لاسونه پورته کول اومختصره دعاء کول شرعًا درست دي اوکه نه؟

جواب: په دې کې څه حرج نسته، ليکن دا رسم جوړول اوالتزام کول يې په شان دواجباتو به دا بد جوړ کړي، کما صرح به الفقهاء. فقط

---

(١). شرح شرعة الاسلام فصل في سنن العبادة وحقوق الميت ص ٥٨٠. ظفير

(٢). ويكره اتخاذ الطعام في اليوم الاول والثالث وبعد الاسبوع الخ واتخاذ الدعوة لقرآئت القرآن وجمع الصلحاء لاجل الاكل يكره (ردالمحتار باب صلاة الجنائز قبيل مطلب في زيارة القبور ج١ ص ٨٤٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤٠). ظفير

(٣). ويكره اتخاذ الطعام في اليوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ونقل الطعام الى القبر في المواسم واتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم اولقراءة سورة الانعام او الاخلاص الخ (ردالمحتار باب الجنائز ج١ ص ٨٤٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤٠). ظفير

درجب په میاشت کی ایصال ثواب: **سوال**: (۳۱۳۹) درجب په میاشت کی ډیر خلگ مړی ته دتبرك په ذریعه ثواب رسوی، ددی څه اصل سته اوکه نه؟ اوصحیح طریقه څه ده؟

جواب: ددی څه اصل نسته، بغیر دڅه قید څخه چی په کمه ورځ وغواړی په فقیرانو دي ډوډی وغیره وخوری اونقدی روپیی دي ورکړی اومړی ته دی ثواب ورسول سی ([1]).

دمړی دپاره په خلکو باندی دقرآن پاک دویلو رواج: **سوال**: (۳۱۴۰) دی طرف ته عام رواج دی چی څوك مړسی نو ددفن څخه وروسته ترجُمعې پوری په چا باندی قرآن وایی اوملا دافتوٰی ورکړیده چی ترقیامته پوری ورڅخه حساب دمنکر اودنکیر او دقبر تېنګول دفع سی آیا ددفن څخه وروسته پرقبر باندی په چا باندی قرآن کریم ویل جائزدی اوکه نه؟

جواب: په اجرت معروفه یا مشروطه باندی چی دمړی دپاره کم قرآن کریم په بل چاویل کیږی په هغه کی محققینولیکلی دی چی مړی ته ثواب نه رسیږی ځکه چی کله دویونکو ثواب ونه سو داجر اودعوض دنیت په وجه نومړی ته به څنګه ورسیږی ([2])، البته که چیری یو سړی دالله ﷻ دپاره قرآن کریم ووایی اومړی ته یی ثواب ورسوی نو انشاء الله دهغه ثواب به مړی ته ورکول کیږی، برابره خبره ده که په کور کی دویلو څخه وروسته ثواب ور ورسوی اوکه په قبر باندی دویلو څخه وروسته.

په ایصال ثواب کی دحضور ﷺ واسطه: **سوال**: (۳۱۴۲) په ایصال ثواب کی دجناب نبی کریم ﷺ واسطه ورکړی اوکه نه؟ یعنی دواسطی په ذکر سوی طعام یاکلام ثواب مړی ته رسیږی اوکه نه؟

جواب: ایصال ثواب په دواړو ډولو ته جائزدی، په هرشان سره ثواب رسیږی. فقط

ایاپه ایصال ثواب سره به ټول ګناهونه معاف کیږی؟ **سوال**: (۳۱۴۲) کم سړی چی وفات سوی وی اوپه ژوند کی دصغائرو اودکبائرو مرتکب وو، اوس که چیری دهغه اولاد بیشماره دقرآن کریم ختمونه اونور دبرکت والا کارونه وکړی او ورته یی وبخښی اوډیره صدقه اوخیرات وکړی نوآیا ددغه سړی صغائر اوکبائربه معاف سی اوکه صرف صغائر به یی معاف کیږی؟

جواب: په درمختارکی دی، وقال عیاض اجمع اهل السنة والجماعت ان الکبائر لایکفرها الا التوبة ولا قائل بسقوط الدین ولو حقا لله تعالٰی کدین صلٰوة وزکٰوة الخ، په دی باندی هم اتفاق دی چی

([1]). صرح علمائنا فی باب الحج عن الغیر بان للانسان ان یجعل ثواب عمله لغیره صلاة اوصوما اوصدقة او غیرها (ردالمحتار صلاة الجنائز ج۱ ص ۸۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۳). ظفیر

([2]). وان القرآئت لشیئ من الدنیا لاتجوز وان الاخذ والمعطی اثمان الخ (ردالمحتار مطلب فی بطلان الوصیة بالختمات والتهلیل ج۱ ص ..... ، ط. س. ج۲ ص ۵۷). ظفیر

په طاعاتو اوحسناتو سره كفاره دصغائرو كيږي اودكبائرو نه كيږي، كما في الحديث الصلوات الخمس والجمعة الى الجمعة ورمضان الى رمضان مكفرات لمابينهن اذا اجتنبت الكبائر، كما قال الله تعالى ان الحسنات يذهبن السيئات، فالمراد بالسيئات الصغائر وعفو الكبائر محول الى مشية الله تعالى، كما قال الله تعالى ان الله لا يغفر ان يشرك به ويغفر ما دون ذالك لمن يشآء. فقط

په دريمه ورځ دنخودو ختم: **سوال**: (٣١٤٣) په دريمه ورځ چي دمړي دپاره پرنخودو باندی كم قرآن ويل كيږي اودوه يازيات واره دقرآن كريم ختمونه كيږي ددی څه حكم دی؟ اوكه چيری پرځای ددريمی ورځی مثلا په څلورمه ورځ ياپه دوهمه ورځ پرنخودو باندی وويل سی نوبيابه هم رواج ځينی جوړسی هغه وخت به څه حكم وی، اوډوډی مخ ته په ايښولو سره فاتحه ويل او يوولسمه كول جائزدی اوكه نه؟

جواب: په دريمه ورځ دنخودو ختم مذكور په سوال كی اودقرآن كريم ختم په خير القرون كی ثابت نه دی اواوس ددی التزام دی درجی ته رسيدلی دی چي عوام دا ضروری ګڼی، ددی دپاره داپريښوول په كاردی، اودارسم ختمول په كاردی، بياچي كله بله كمه ورځ دغه ركم لازمه سی، اورسم ځينی جوړسی نودهغه پريښوول به هم ضروری سی، اوكمه طريقه چي دسلفو څخه ثابته نه وی دهغه لازمول كه څه هم اعتقاد يی نه وی صرف عملا وی نودهغه پريښوول هم واجب دی (١)، اومخ ته په ډوډی ايښولو سره فاتحه وركول هم جائزنه دی، همدغه ركم يوولسمه هم جائزنه ده، داقسم ټول رسمونه كول كم چي شارع عليه السلام اودهغه اصحابو رضي الله عنهم اوددين امامانو كړی نه دی اودهغه حكم يی نه دی كړی ناجائز اوبدعت دی، ليكن كفر اوشرك نه دی.

په حرام مال سره فاتحه: **سوال**: (٣١٤٤) كه چيری څوك په حرام مال سره داولياء كرامو فاتحه كوی اودثواب اميد لری نوځنګه دی؟

جواب: حرام مال صدقه كول اودثواب اميد لرل معصيت دی دغه سړی ګنهګاريږی (٢).

پركفن باندی كلمه شهادت ليكل: **سوال**: (١٣٤٥) دمړی پركفن باندی په چاك سره كلمه شهادت ليكل جائز دی اوكه نه؟

جواب: دمړی په كفن باندی ياپه سينه باندی ياپه جبهه (تندی) باندی په ګوتی سره د سياهی څخه بغير دغسل څخه وروسته اودكفن اچولو څخه مخكی جائز دی. په شامی

(١). وفی البزازية ويكره اتخاذ الطعام فی اليوم الاول والثالث الخ واتخاذ الدعوة لقرآئت القرآن الخ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص٨٤٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤٠). ظفير

(٢). لايقبل الله الا الطيب (مشكوٰة باب الصدقة ص ١٢٧). ظفير

جلد اول ص ٦٢٢ کی دی: نعم نقل بعض المحشین عن فوائد الشرحی ان مما تکتب علی جبهة المیت بغیر مدار بالاصبع المسبحة بسم الله الرحمٰن الرحیم وعلی الصدر لااله الا الله محمد رسول الله وذالك بعد الغسل قبل التکفین، والله اعلم ([1])

په قبرکی شجره ایښوول درست نه دی: **سوال**: (٣١٤٦) دمړی سره په قبرکی دننه دپیرانو عظامو شجره ایښوول جائزدی اوکه ناجائز یا دبی ادبی موجب دی؟

جواب: دپیرانو عظامو شجره دمړی سره په قبرکی دننه ایښوول جائزنه دی ځکه چی دمړی سره دکفنونو څخه ماسوا بل څه شی ایښوول جائزنه دی په شامی جلد اول ص ٦٥٩ کی دی: ولا یجوز ان یوضع فیه مضربة ([2]).

سماع موتٰی: **سوال**: (٣١٤٧) په سماع موتٰی کی دحنفی محققینو څه مذهب دی اودقرآن پاك اودحدیث مبارك څخه څه ثابت دی؟

جواب: د: انك لاتسمع الموتٰی وغیره نصوصو څخه عدم سماع موتٰی ظاهره ده، فان عدم الاسماع یستلزم عدم السماع وهو قول محققی الحنفیة ([3]). فقط

دبدنی ایصال ثواب طریقه څه ده؟ **سوال**: (٣١٤٨) دبدنی ایصال ثواب طریقه څه ده دبدنی عبادت ثواب مړی ته رسیږی اوکه نه؟

جواب: داحنافو په نزد باندی دبدنی عبادت ثواب لکه دقرآن کریم تلاوت تسبیحات، تهلیل دژوندو لخوا څخه مړوته رسیږی، نودایصال ثواب صورة دادی دمړی ولی دی قاریانو وغیره ته ووایی چی تاسی لله ثواب دکلام الله المجید فلانی مړی ته وبخښئ، مګر لازمه ده چی دقاریانو غرض چی ایصال ثواب مړوته کوی دمعاوضی اوداجرت اخیستل دمړی دولی څخه نه وی، کنی ثواب نسته.

پرکفن باندی عهدنامه لیکل څنګه دی؟ **سوال**: (٣١٤٩) دمړی پرکفن باندی عهدنامه لیکل ثابت دی اوکه نه؟ که چیری وی نوپه سیاهی سره ښه دی اوکه په خاوری سره؟

جواب: علامه شامی رحمه الله دبزازیه څخه نقل کړیدی: وقد افتی ابن الصلاح بانه لایجوز ان یکتب علی الکفن یٰس والکهف ونحوها خوفا من صدید المیت (الی ان قال) فالمنع هنا الاولٰی، نو معلومه سوه چی عهدنامه وغیره که لیکی نوپه سیاهی دي نه لیکی ځکه چی دابه نه دی بلکی بغیر دسیاهی څخه دي په ګوته سره ولیکی، کمافی الشامی ایضا ان مما یکتب علی جبهة بغیر مداد بالاصبع بسم الله الرحمٰن الرحیم الخ شامی ص ٨٩٥.

([1]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فیما یکتب علی کفن المیت ج١ ص ٨٤٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤٢. ظفیر
([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٢. ظفیر
([3]). حواله یې مخکی تیره سویده . ظفیر

ايا روح كورته راځي اودثواب طريقه څه ده؟ سوال: (۳۱۵۰) دمړی روح كورته راځي اوكه نه راځي؟ په مسكينانو باندی دډوډی خوړلو څخه وروسته دايصال ثواب څه رنګه رسول په كاردی؟

جواب: روح كورته نه راځي ددی څه ثبوت نسته ددی خيال اوعقيده دي نه ساتی، او ايصال ثواب قرآن مجيد اوپه كلمه طيبی سره اوپه فقيرانو باندی په ډوډی خورولو سره دهغه ثواب دي مړی ته ورسول سی دادرست دی، طريقه ددی داده چی ډوډی دي پخه كړی اوپه فقيرانو دي وخوری، اوباری تعالی ته دي دادعاء وسی چی ددی ثواب دي دفلانی سړی روح ته ورسيږی اونيت كول دايصال ثواب كافی دی، همدغه ركم كيږه او نقدی روپی دي فقيرانو لره وركړی اومړی ته دي دثواب نيت وسی، اودقرآن كريم اوكلمه طيبی ثواب دي مړی ته ورسول سی ([1]). فقط

يوغلط رواج: سوال: (۳۱۵۱) در اکثر مواضع چاتگام رسم است که مردمان چون بعد مدفون میت ازکار سازی قبر فارغ شوند پس خوندکاری جانب شمال قبر نزد سرهانه میت بایستد وهم شخص دیگر جانب مغرب قبر که برابر میانه قبر فتیله پرآب گرفته بایستد اوهمه آب فتیله رابحسب اشاره خوندکار برسطح قبر سه دفعه ازکف خود می افشاند. صورتش همین است که خودند کار صاحب هیچ دعاء خوانده از انگشت دست راست خود ازجانب سر میت بطرف پای اواشاره کند پس مرد فتیله گر مسطور بمطابق خودن کار هیچ دعاء خوانده فتیله گر آب بقیه را بطریق مذکور می افشاند، حاصل آنکه این عمل سه بار کرده شود، خیال مردمان برین آب افشان همین است که از این تخفیف عذاب میت خواهد شد این رسم جائز است یا چه؟

جواب: این رسم واین طریق آب افشاندن برقبر از رسول الله ﷺ وازصحابه وتابعین وآئمه دین رضوان الله تعالٰی علیهم اجمعین ثابت نه شده، لاجرم طریق محدث است که لازم الترك است وآنچه دراحادیث درباره انداختن آب برقبر آمده است نه به این طریق ورسم خاص است ونه خواندن چیزی بوقت انداختن آب واردشده است لاجرم مجموعه این رسم محدث است وانداختن اب برقبر ممکن است که برائی امساك غبار وتراب باشد وهمین راجح است، کما اختاره فی الدر المختار. وممکن است که برای تفاول بنزول رحمت باشد، بهرحال خواندن چیزی بوقت انداختن آب ثابت نه شده

([1]). صرح علمائنا فی باب الحج عن الغیر بان للانسان ان یجعل ثواب عمله لغیره صلاة اوصوما اوصدقة او غیرها (الی قوله) وفی البحرمن صام اوصلی اوتصدق وجعل ثوابه لغیر من الاموات والاحیاء جاز ویصل ثوابها الیهم عند اهل السنة والجماعة کذافی البدائع (ردالمحتار ج۱ ص ۸۴۰) په درمختار کی دی وفی الحدیث من قرا الاخلاص احد عشرة مرة ثم وهب اجرها للاموات اعطی من الاجر (شامی ج۱ ص ۸۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۳).

است، ودرنفس انداختن آب برقبرمضائقه نیست بلکه مندوب است، ولاباس برش الماء حفظا لترابه عن الاندراس درمختار (۱)، وخواندن اول سورة بقره بجانب راس واخر سورة بقره بجانب قدم، ازعبدالله ابن عمر رضی الله عنهما منقول است ومستحب است ولیکن نه باین کیفیت که درسوال مذکور است بدعت است محدث است. (۲)

ایصال ثواب کوونکی ته ثواب ورکول کیږی اوکه نه؟ سوال: (۳۱۵۲) زید قرآن کریم ووایه، اودعمر په نوم یی ایصال ثواب وکی، اوس زید ته به ددی دویلو څومره ثواب ورکول کیږی؟

جواب: دقرآن کریم ثواب خوبه عمر ته ورکول کیږی باقی په دی وجه سره چی زید یو ښه کار وکی هغه ته دهغه بدله په لس چنده بلکی ددی څخه هم زیاته ورکیدی سی، اخلاص شرط دی، داخلاص څخه بغیر هیڅ عمل مقبول نه دی، الا لله الدین الخالص. من جاء بالحسنة فله عشر امثالها . فقط

په قبرکی حمائل ایښوول: سوال: (۳۱۵۳) یوسړی دیوه بزرګ په قبرکی ددفن کولو په وخت کی یوحمائل شریف اویو دسپینو زر مهر ایښی دی، شرع شریف ددی په باره کی څه ارشاد فرمایی؟

جواب: قرآن کریم او دسپینو زر مهردی دقبر څخه راوایستل سی داکار ښه نه دی سوی، چاچی داسی وکړل بدیی وکړل داکار جائزنه وو. وکما اذا اسقط فی القبر متاع اوکفن بثوب مغصوب اودفن معه مال، وقالو کان المال درهما الخ شامی (۳).

داولیاؤ پرمزار باندی ددعاء درخواست جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۳۱۵۴) دبزرګانو درګاه ته حاضریدل اوهغوی ته داویل چی تاسی مستجاب الدعوات یاست زموږ دپاره دعاء وکړی چی الله جل جلاله موفلانی عرض پوره کړی، په شریعت کی ددی څه اصل سته اوکه نه؟ او داولیاؤ مزاراتو ته په ورتللو سره هغوی ته خبر کیږی اوکه نه؟

جواب: په دی باره کی مشروع دادی چی دزیارت په وخت کی دي دمعروفی طریقی سلام وکی اوداهل قبور دپاره دي دمغفرت دعاء وکړی، اوکه څه ویل وکړی او دهغوی ارواحو ته ثواب ورسوی نوډیره ښه ده، اوکه څه دعاء کوی نوباری تعالی ته دي وکړی مثلاً په دی طریقی سره چی یا الله! ددوی په برکت سره زما حاجت پوره وفرمایی، دغه بزرګانو ته

(۱). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، باب صلاة الجنازة ج۱ ص ۸۳۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۷. ظفیر
(۲). قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهورد رواه مسلم (مشکوٰة باب الاعتصام ص ۲۷).
(۳). وګوری ردالمحتارج۱ اول ص ۸۳۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۸. ظفیر

دي دانه وايي چې ته دعاء وكړه سماع موتٰی پخپله مختلف فيه مسئله ده، حنفيه دسماع موتٰی انكاركوی اودحضرت عائشه صديقی رضی الله عنها همدا مذهب دی، اوقرانی ايتونه په دی باندی دال دی، لهذا په دغه ركم دي هغوی ته خطاب نه كوی چې تاسی دعاء وكی بلكه پخپله دي الله جل جلاله ته دهغوی دپاره دمغفرت دعاء اوددرجو اولوړوالی دعاء وكړی، اوكه دهغوی په ذريعې سره دخپلو حاجتنو دپوره كيدلو دپاره هم دعاء وكړی نوبديت يی نسته. په حصن حصين كی مذكور دی چې دصالحينو په وسيلی سره دعاء كول مستحب دی چې حق تعالی دهغوی په بركت سره دعاء قبوله وفرمايي (۱). فقط

دجنازي څخه وروسته دسورة اخلاص په ويلو سره دايصال ثواب رواج: **سوال**: (۳۱٥٥) زموږ په علاقه كی دجنازی دلمانځه څخه وروسته دری واره دسورة اخلاص دويلو څخه وروسته مړی ته يی بخښبی ددی دپاره چې هغه ته دقرآن پاك دختم ثواب وركول سی، نو دا فعل شرعًا جائز دی اوكه نه؟

جواب: فقهاؤ دجنازی دلمانځه څخه وروسته دوباره دعاء كول مكروه اوممنوع ليكلی دی (۲) ځكه چې دجنازی لمونځ پخپله دمړی دپاره دعاء ده په دی كی دبل يو ايجاد او زياتوالی حاجت نسته. لهذا دجنازی دلمانځه څخه وروسته فوراً ددی التزام چې دری واره سورة اخلاص وويل سی اودهغه ثواب مړی ته ورسول سی ښه نه دی، په بل وخت كی يا په خپل زړه كی داعلان اودالتزام څخه بغير كه دكم صورة ثواب ورته رسوی نوڅه بديت يی نسته. فقط

دسوا (پاؤ بالا) لک واره دكلمې ويلو او دثواب رسولو روايت چيری دی: **سوال**: (۳۱٥٦) كه چيری سوا لك واره كلمه شريفه وويل سی اومړی ته وبخښل سی، نو دمغفرت اميد دی، داروايت په كم كتاب كی دی؟ دلا اله الا الله ويل په كاردی اوكه نه محمد رسول الله هم ورسره يوځای سی؟

جواب: داروايت مې داحاديثو مباركو په كم كتاب كی دنظر څخه تيرسوی نه دی، بعضو مشائخو دا نقل فرمايلی دی لهذا عمل په دی باندی درست دی اومعمول دلااله الا الله محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلونه دی، بلكی صرف دلااله الا الله ويلو دی، اوكله كله ورسره دمحمد رسول الله صلی الله عليه وسلم ديوځای كولو دی، اودترمذی اودابن ماجة په حديث شريف كی دی، افضل الذكر لااله الاالله (۳)، الحديث. فقط

---

(۱). وان يتوسل الی الله تعالی بانبيائه والصالحين من عباده (حصن حصين اداب الدعاء ص ۱۸). ظفير

(۲). ولايدعو للميت بعد صلاة الجنازة لانه يشبه الزيادة فی صلاة الجنازة (مرقاة المفاتيح شرح مشكوٰة المصابيح ج۲ ص ۳۲۹). ظفير [باقی]

مړي ته ددعاء درخواست جائزدي اوکه نه؟ سوال: (۳۱۵۷) یوصاحب فرمایي چي په یوچا مرده سړي باندي خواکه نبي وي اوکه ولي وي دعاء کول یا دهغوي څخه څه قسم مدد غوښتل بدعت دي، اوددي په دلیل کي داحدیث شریف پیش کوي، چي یو وار دحضور ﷺ دوفات څخه وروسته دقحطي په زمانه کي حضرت عمر ؓ حضرت عباس ؓ لره تشریف راوړي اوورته وي فرمایل چي کله حضور ﷺ حیات وو نوموږبه په داسي موقعه کي په هغوي باندي دعاء کوله اوس هغوي حیات نه دي تاسي دهغوي مبارك ﷺ اکا یاست، تاسي راسره ولاړسي اودعاء وکي، اوهمدغه رکم حضرت معاویه ؓ به هم په داقسم واقعه اوضرورت کي په صحابه کرامو ؓ باندي دعاء کوله، نوکه چیري په مړي باندي دعاء کول بدعت نه وي یاددي حکم وي نوحضرت عمرؓ به دحضور ﷺ مزارته تللی وای اوپه هغوي ﷺ باندي به یي دعاء کړي وه؟

جواب: ثابت سنت اوطریقه دسلفو داده چي دقبرونو دزیارت په وخت کي دمړو دپاره دعاء وکړي اودنیکیانو ایصال ثواب اهل قبوروته وکړي، دانه چي پخپله دغه قبرونو والاوو ته ددعاء دپاره ووایي چي زمادپاره دعاء وکړه، یاهغوی ته ووایي چي زما فلاني کار وکي داثابت نه دی. نهایتي داچي دباری تعالٰی څخه دي دهغوي په واسطه سره دعاء وکړي مثلاً داچي یا الله په برکت دفلاني بزرګ صاحب قبر زما حاجت پوره کړی اودعاء مي قبوله کړی وغیره. فقط

دفاتحي اودزیارت اطلاع مړي ته کیږي اوکه نه؟ سوال: (۳۱۵۸\۱) کله چي دمړی خپلوان فاتحه ورکوي، نومړي ته پته لګیږي اوکه نه؟

سوال: (۳۱۳۲\۲) کله چي دمړی عزیزان قبرستان ته ولاړسي، اوفاتحه وایي نوهغه ته معلومات کیږي اوکه نه؟

سوال: (۳۱۳۷\۳) که چیري دمړی دطرف څخه قرباني یاحج وسي نوهغه ته دامعلومات کیږي چي زما فلاني عزیر داکار کړی دی؟

جواب: \۱: که ورته معلومات وسي نوڅه عجیبه نه ده (۱).

۲\: داسي هم دبعضو روایاتو څخه معلومیږي (۲).

---

(۳). مشکوٰة باب ثواب التسبیح والتحمید فصل ثاني ص ۲۰۱. ظفیر

(۱). وانما الکلام فی وصول ثواب غیره الیه والموصل للثواب الی المیت هو الله تعالی سبحانه لان المیت لا یسمع بنفسه والقرب والبعد سواء (شرح فقه اکبر ص ۱۵۹). ظفیر

(۲). وفی شرح اللباب لملا علی القاری ؒ ثم من اداب الزیارة ماقالوا من انه یاتی الزائر من قبل رجلی المتوفی لا من قبل راسه لانه اتعب لبصر المیت (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی زیارة القبور ج۱ ص ۸۴۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۲). ظفیر

۳: داسی په بعضو روایاتوکی واردِدی چی مړی ته دامعلومیږی، یعنی ملائکی ورته وایی.

دعذاب څخه دخلاصیدلو طریقه څه ده؟ **سوال**: (۳۱۵۹) که چیری مړی په عذاب کی مبتلا وی نو دهغه څخه دنجات دپاره عزیزانو لره څه کول په کاردی؟

جواب: په قرآن کریم اوکلمی طیبه اوصدقی اوخیرات سره دي ثواب وورسوی همدا مړی ته څه نفع رسوی. (۱) فقط

دمړی دپاره دعاء په کم کم وخت کی درسته ده؟ **سوال**: (۳۱۶۰) دلته دډیری مودی څخه دارواج دی چی دکفن کولو څخه وروسته مړی په جنازه کی کښیږدی خلگ راجمع سی، اوپه اهتمام سره فاتحه وایی، بیا دجنازی دلمانځه دفراغت څخه وروسته اودجنازی دپورته کولو څخه مخکی ټول خلگ انتظار کړی اودامام سره فاتحه وایی بیا علاوه دهغه دعاء څخه کمه چی ددفن څخه دفارغیدلو څخه وروسته متصل غوښتل کیږی دغه وخت هم خلگ انتظار سی اوفاتحه کیږی، اوکله چی په واپسی کی دقبرستان دروازی ته ورسیږی (نودعاء غواړی) په بعضو ځایونوکی داسی هم کیږی چی کله مړی دغسل دپاره کښې ښوول سی نوهغه وخت هم راجمع سی اوفاتحه وایی، اودقبرستان په دروازه کی دفاتحی ویلو څخه وروسته پرکور باندی هم دفاتحی رواج په ځای راوړی، یعنی په اولو درو موقعوکی دفاتحی ویلو عام رواج دی اوپه وروستنیو دوو موقعو کی دفاتحی عام رواج نه دی، یعنی یوځای سته یوځای نسته، لیکن اوس یوعالم تشریف راوړی چی دهغوی څخه پوښتنه وسوه نوهغوی دافرمایی چی په دی مختلفو اوقاتوکی په دی کیفیت سره فاتحه ویل بدعت اوخلاف سنت دی بالخصوص کله چی نه کونکی دملامتیا قابل هم گڼی اودلیل دا ورکوی چی دعلامه شامی وغیره دتصریح مطابق چی دجنازی لمونځ پخپله دمړی دپاره دعاء ده، لکه څنگه چی په ردالمحتار جلد اول صفحه ۲۴۱، کی لیکلی دی، فقدصرحوا عن اخرهم بان صلاۃ الجنازۃ هی الدعاء للمیت اذ هوالمقصود منها انتهٰی، اوفاضل اجل علامه ملاعلی قاری مکی حنفی رحمه الله په مرقاۃ شرح مرقات باب الجنائز کی دمالك بن هبیره ترحدیث لاندی تحریر فرمایی، ولا یدعی للمیت بعد صلٰوۃ الجنازۃ لانه یشبه الزیادۃ فی صلاۃ الجنازۃ، اوپه بعضو کتابونو کی یی دمحیط څخه نقل کړیدی، لا یقوم الرجل بالدعاء بعد صلٰوۃ الجنازه، اودکبیری څخه منقول دی: فی السراجیة اذا فرغ من الصلٰوۃ لا یقوم بالدعاء، اوداسی وایی چی ددفن څخه وروسته

(۱). وفی البحر من صام اوصلی اوتصدق وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز ویصل ثوابها الیهم عند اهل السنة والجماعة الخ (ردالمحتار باب صلاۃ الجنائز مطلب فی القرآئت للمیت ج۱ ص ۸۴۴ ط. س. ج۲ ص۲۴۳). ظ

متصل پرقبر باندی دعاء غوښتل داحادیثو مبارکو په کتابونو کی دجناب نبی کریم ﷺ څخه ثابت دی او دباقی مروجه دعاګانو ثبوت داحادیثو مبارکو او دفقهی شریفی په کتابونو اودمحققینو عالمانو داقوالو څخه ثابت نه دی نوارشاد دي وسی چی ددغه عالم صاحب دافرمایل صحیح دی اوکه نه؟ اودالله ﷻ او درسول الله مبارك ﷺ دحکم موافق دمړی دمرګ دوخت څخه واخله ددفن کولو څخه وروسته کورته تر راتللو پوری په جمع کیدلو سره په کموکمو موقعوکی په شرع شریفه کی ددعاء دغوښتلو ثبوت ستته، آیا داده چی هرسړی دجنازی دلمانځه څخه علاوه بغیر دالتزام دمالم یلزم اوبغیر داهتمام او دجمع کیدلو دفکر څخه په خپلی خوښی سره چی کله وغواړی دمړی دپاره دي دعاءِ خیر وکړی؟

جواب: ددغه عالم صاحب قول صحیح دی اودقواعدو اودنصوصو موافق دی اودفقهاؤ تصریحات دهغه دقول مؤید دی، دجنازی لمونځ پخپله دمړی دپاره دعاء ده ددی څخه ماسواپه بله کمه موقعه کی دذکر سوی فاتحی علی وجه الاجتماع ثبوت نسته، په مسند احمد ج۴ ص **۳۵۲** کی دعبدالله بن اوفی ﷺ څخه مروی دی، ثم یکبر علیها اربعًا ثم قام بعد الرابعة قدر مابین التکبیرتین یدعو ثم قال کان رسول الله ﷺ یصنع فی الجنازة هکذا. اوپه فتح الباری ج۱۱ ص ۱۲۲ کی دی، وفی حدیث ابن مسعود ﷺ رایت رسول الله ﷺ فی قبر عبد الله ذی البجادین، الحدیث، وفیه لما فرغ من دفنه استقبل القبلة رافعًا یدیه . اخرجه ابوعوانه فی صحیحه. فقط

ایصال ثواب ثابت دی خوورځ مقرر کول درسم په طور سره درست نه دي: **سوال**: (۳۱۲۱)

مړوته دایصال ثواب په نیت سره څه خیرات کول، اودقران پاك تلاوت بخښل، په قرآن کریم اوپه حدیث مبارك کی څه حکم وارد دی که چیری څوك مړوته دایصال ثواب په غرض خیرات وکړی اودقرآن پاك تلاوت وکړی نوآیاواقعی دهغه ثواب مړوته په رسیدلو سره دعذاب تخفیف یادرجات عالیه حاصلیدل دقرآن کریم اودحدیث شریف څخه ثابت دی؟ دورځ په مقررولو سره فاتحه خوانی، سه ماهی، شش ماهی وغیره عرس کول دبزرګانو دقبرونو څخه استمداد کول اوپه مننه اونذر مراد غوښتل دهغوی څخه آیا درست دی، اوآیا مړی په عالم کی څه تصرف کولی سی؟

جواب: مړوته دصدقاتو او دقرآن کریم ثواب رسیدل اومړوته دژوندو په دعاء اواستغفار سره نفع رسیدل دقرانی نصوصو اواحادیثو څخه ثابت دی، کما فصله فی کتب الفقه. انکار ددی څخه جهل اومعصیت اوخرق اجماع (۱) ده. البته دایصال ثواب دپاره په شریعت کی

(۱). ویقراء یٰس وفی الحدیث من قرا الاخلاص احد عشر مرة ثم وهب اجرها للاموات اعطی من الاجر بعدد =

کمه ورځ مقرره نه ده، لهذا لسمه څلويښتمه، ششماهي، کليزه اوعرس مروجه فاتحه خواني داټول رسمونه دشريعت څخه خلاف دي اوبدعت دي اودقبرونو څخه استمداد اومننه اومراد غوښتل ټول ناجائز دي، دالله ﷻ څخه ماسوا دهيچا هيڅ تصرف اواختيار نشته.

دايت کريمه، ليس للانسان الاماسعٰى، **صحيح مفهوم اوايصال ثواب: سوال:** (٣١٢٢) آيات **کريمه:** ليس للانسان الاماسعٰى، وقدخلت لها ماکسبت ولکم ماکسبتم، من عمل صالحًا فلنفسه ومن اساء فعليها، آيا ددې آيتونو څخه مړوته دايصال ثواب کولو باطلوالی ثابتيدلی سی اوکه نه؟

جواب: په شرح فقه اکبر کې يې ددې اعتراض (په باره کې دآيت کريمه ليس للانسان الا ما سعٰى) نقل کولو څخه وروسته داجواب ورکړی دی چې ددې آيت کريمه څخه ايصال ثواب ثابتيږي ځکه چې کله يې دا وفرمايل چې دهر انسان دپاره هغه دی دکم چې هغه سعی وکړه، نوثواب رسولو والا سعی کوی مړوته دنيکو عملونو په ثواب رسولوکی، ددې وجه څخه هغه سعی به دهغه فضول نه ځی دآيت په موجب، اوچاته چې هغه ثواب ورسوی هغه به ورته ورسيږي ([1]). انتهٰی

اودا جواب هم ورکول سويدی چې دماسعٰى څخه سعی ايماني مراد ده، يعنی چاچې سعی ايماني حاصله کړه، يعنی ايمان يې راوړی اومومن وفات سو، نوهم هغه ته دنورو (خلګو) په ثواب رسولو سره ثواب رسيدی سی، نه داچې کافر ته، اوکله چې مړوته ثواب رسيدل دصحيح احاديثو څخه ثابت سو، نوبيا دداسی بی بنياده شبهاتو ګنجائش نشته، ځکه چې دقرآن کريم په معنٰی باندی حضور ﷺ ښه پوهيدی، اوداهم جواب ورکول کيدی سی چې د، الانسان، څخه مراد کافر دی يعنی کافرته ثواب نه رسيږي. فقط

په قبرباندې قرآن کريم ويل څنګه دي؟سوال:(٣١٢٣)پرقبرباندی دقرآن کريم ويل څنګه دي؟

= الاموات (درمختار) قوله: (ويقرأ يس) لما ورد: من دخل المقابر فقرأ سورة يس خفف الله عنهم يومئذ، وكان له بعدد من فيها حسنات ؒ صرح علماؤنا في باب الحج عن الغير بأن للانسان أن يجعل ثواب عمله لغيره صلاة أو صوما أو صدقة أو غيرها، كذا في الهداية الخ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨۴۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢۴٢). ظفير

([1]). اختلف فی العبادات البدنية كالصوم والصلاة وقراءة القرآن والذكر فذهب ابوحنيفة واحمد وجمهور السلف رحمهم الله الى وصولها ؒ واستدلاله بقوله سبحانه: وان ليس للانسان الا ما سعٰى مدفوع بانه لم ينف انتفاع الرجل بسعی غيره وانما نفی ملكه بغير سعيه وبين الامرين فرق بين فاخبر الله تعالى انه لا يملك الا سعيه واما سعی غيره فهو ملك لسعيه فان شاء ان يبذله لغير وان شاء يبقه لنفسه وهو سبحانه لم يقل لا ينتفع الا بما سعى ؒ (شرح فقه اكبر ص ١٢٠. ظفير

جواب: مړی ته دایصال ثواب دپاره په قبرباندی قرآن کریم ویل اومړی ته یی ثواب رسول درست دی. کذا فی الشامی (۱). فقط

دمړی په کورکی په همدغه ورځ باندی ددفن کونکو ډوډی خوړل څنګه دی؟ سوال: (۳۱۲۴) یوسړی وفات سو، دهغه چی کم دفن کونکی دی په همدغه ورځ دهغه په کورکی ډوډی خوړلی سی اوکه نه؟

جواب: دمړی دکوروالاؤ دپاره چی دخپلوانو دطرفه کمه ډوډی راسی دهغه خوړل اهل میت لره درست دی (ددفن کونکو خلګو اهل میت لره پرډوډی پخولو باندی مجبوره کول اودهغه خوړل مکروه دی (۲). ظفیر)

ټولو مسلمانانو ته ایصال ثواب درست دی: **سوال**: (۳۱۲۵) زید چی تلاوت وکی نودهغه ثواب په توسط دحضور ﷺ اوازواج مطهراتو ﷺ اوددین ټولو بزرګانو ته دبخښلو څخه وروسته دخپل خاندان ټولو مړوته اودټولو مومنانو سړو اومومنانو ښځو روح ته یې بخښی، نوداسی کول په کاردی اوکه نه؟ اودایصال ثواب ښه طریقه څه ده؟

جواب: داطریقه دایصال ثواب څنګه چی زیدکوی ښه ده، په دی کی څه حرج نسته اوزید ته به هم ثواب ورکول کیږی (۳). فقط

چی دری واره (قل هوالله) ووایی اووی بخښی نوایا دختم قرآن کریم ثواب به ورکول کیږی؟

سوال: (۳۱۲۶) یومولوی صاحب په وعظ کی وفرمایل چی که چیری څوك یو وار سورة فاتحه اودری واره سورة اخلاص ووایی اوټولو مومنانو ته یی ثواب وبخښی نوهریوه ته به ځانته دیوه قرآن مجید ثواب رسیږی، داخبره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی کی دفقهاؤ دوه قوله دی یوداچی هریومړی ته پوره پوره ثواب رسیږی اوپه یوروایت کی دادی چی په تقسیمیدلو سره رسیږی اودا دوهم قول یی دقیاس سره موافق

---

(۱). وبزیارة القبور الخ یقول السلام علیکم الخ وقرا یٰس (درمختار) لما ورد من دخل المقابر فقرا سورة یٰس خفف الله عنهم یومئذ الخ (ردالمحتار باب صلوٰة الجنائز مطلب فی زیارة القبور ج۱ ص ۸۴۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۲). ظفیر

(۲). وترتیبهم فی الصبر وباتخاذ طعام لهم (درمختار) قال فی الفتح ویستحب لجیران اهل المیت والاقرباء الاباعد تهیئة طعام لهم یشبعهم یومهم ولیلتهم لقوله ﷺ اصنعوا لال جعفر طعاما فقدجاءهم مایشغلهم حسنه الترمذی وصححه الحاکم ولانه بر معروف الخ وقال ایضا وقال یکره اتخاذ الضیافة من الطعام من اهل المیت لانه شرع فی السرور لافی الشرور وهی بدعة مستقبحة الخ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج۱ ص ۲۱۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۰). ظفیر

(۳). ویقرا من القرآن وماتیسر له من الفاتحة الخ ثم یقول اللهم اوصل ثواب ماقرأناه الی فلان اوالیهم الخ الافضل لمن یتصدق نفلا ان ینوی لجمیع المؤمنین والمؤمنات لانها تصل الیهم ولاینقص من اجره شیئ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ، مطلب فی زیارة القبور ج۱ ص ۸۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۲). ظفیر

ليکلى دى اودبارى تعالٰى دفضل څخه بعيده نه ده چى هريوه ته پوره پوره ثواب ورسيږى (١)، اودا په حديث شريف کى راغلى دى چى د، قل هو الله، په يو وار ويلو سره ددريمى حصى قرآن کريم ثواب (٢) حاصليږى. فقط

پرکفن باندى کلمه شريفه ليکل بى ادبى ده: سوال: (٣١٢٧) دمړى پرکفن باندى کلمه شريفه ليکل څنګه دى؟

جواب: دکلمى شريفى په ليکلو کى بى ادبى ده اوپه ګندګى کى يى ککړول دى، ددغه وجه څخه محققينو ددى څخه منعه کړيده (٣).

چى قبرستان ته ولاړسى څه کول پکاردي؟ سوال: (٣١٢٨) چى قبرستان ته ولاړسى نوڅه ويل په کاردى؟ اوددرود شريف ويل په کاردى اوکه نه؟ ځکه چى دبعضو خلګو خيال دى چى درود شريف صرف پرحضور ﷺ باندى مخصوص دى؟

جواب: درود شريف هم ويلى سى اودقبرونو دزيارت مشروع طريقه داده چى ووايى، السلام عليکم يا اهل القبور انتم لنا سلف وانا انشآء الله بکم لاحقون يغفر الله لنا ولکم، ددى څخه وروسته که چيرى قل هوالله وغيره ووايى اوثواب يى ورسوى نوداهم ښه (٤) ده. فقط

دايصال ثواب دپاره په ژبى سره څه ويل په کاردي؟ سوال: (٣١٢٩) دثواب رسولو دپاره که څه هم دنيت کول کافى دى ليکن په ژبى سره دغه وخت څه ويل پکاردى؟

جواب: دادي وويل سى چى يا الله ددى عمل ثواب فلانى ته ورسوى. (٥) فقط

---

(١). والافضل لمن يتصدق نفلا ان ينوى لجميع المومنين والمومنات لانها تصل اليهم ولاينقص من اجره شيئ (ردالمحتار صلاة الجنائز مطلب فى القرآئة للميت ج ١ ص ٨۴۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢۴٣) سئل ابن حجر المکى عما لوقرا لاهل المقبرة الفاتحة هل يقسم الثواب بينهم اويصل لکل منهم ثواب ذالك کاملا فاجاب بانه افتٰى جمع بالثانى وهو اللائق بسعة الفضل (ايضا ج١ ص ٨۴۵ ، ط. س. ج٢ ص ٢۴٣). ظفير

(٢). وعن ابن عباس وانس بن مالك قالا قال رسول الله ﷺ : اذا زلزلت تعدل نصف القرآن وقل هو الله احد تعدل ثلث القرآن وقل يا ايها الکافرون تعدل ربع القرآن رواه الترمذى (مشکوٰة کتاب فضائل القرآن ص ١٨٨). ظفير

(٣). وفى فتاوٰى المحقق ابن حجر المکى الشافعى سئل عن کتابة العهد على الکفن وهو لااله الا الله ﷺ والقياس المذکور ممنوع لان القصد ثم التميز وهناك التبرك الخ فلايجوز تعريضها للنجاسة (ردالمحتار مطلب فيما يکتب على کفن الميت ج١ ص ٧۴٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢۴٢). ظفير

(٤).قال في الفتح: والسنة زيارتها قائما، والدعاء عندها قائما، کما کان يفعله (ص) في الخروج إلى البقيع ويقول: السلام عليکم الخ. وفي شرح اللباب ويقرأ من القرآن ما تيسر له من الفاتحة وأول البقرة إلى المفلحون وآية الکرسي وآمن الرسول وسورة يٰس وتبارك الملك وسورة التکاثر والاخلاص اثني عشر مرة. أو عشرا أو سبعا أو ثلاثا ثم يقول: اللهم أوصل ثواب ما قرأناه إلى فلان أو إليهم (ردالمحتار باب صلوٰة الجنائز مطلب فى زيارة القبور ج١ ص ٨۴٣ – ٨۴۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢۴٢). ظفير

(٥). ويقرء من القرآن ماتيسر من الفاتحة الخ ثم يقول اللهم اوصل ثواب ماقرأناه الى فلان اواليهم (ردالمحتار باب =

که په ژوندکی کلمه شریفه اوقرآن کریم ووایی اودخپل ځان دپاره یی وساتی نوایادمرګ څخه وروسته به ورته ثواب ورکول کیږی: **سوال**: (۳۱۷۰) که چیری یو سړی دخپل ځان دپاره سوا لك (۱۲۵۰۰۰) کلمه شریفه اودیو قرآن مجید ثواب په خپل ژوند کی دخپل مغفرت دپاره وساتی نودمرګ څخه وروسته به ورته هغه ثواب رسیږی اوکه نه؟

جواب: ولی نه. (ضروربه ورکول کیږی (۱)

ثواب رسونکی ته هم ثواب ورکول کیږی: **سوال**: (۳۱۷۱) ثواب رسونکی ته هم څه ثواب یا نیکی ورکول کیږی اوکه نه؟

جواب: ثواب ور کول کیږی. (۲) فقط

قبرته سجده کول حرام دی: **سوال**: (۳۱۷۲) زید دشریعت متبع دی لیکن بکر یوه ورځ په خپلو سترګو ولیدی چی زید دبزرګ مزارته ولاړی اوپر قبر باندی یی دپښو طرف ته تندی ایښی وو اوڅه ساعت وروسته یی سر لوړکی اوراسته طرف ته ودریدی اوفاتحه یی وویله، دزید دافعل جائزدی اوکه نه؟

جواب: دزید دافعل بیشکه ناجائز اوحرام دی اودعام وخاص هیچا دپاره درست نه دی. (۳)

دهندوانو بچی چی په کم ځای کی دفن وی هلته په رسیدلو سره څه ویل درست نه دی:

سوال: (۳۱۷۳\۱) په کم ځای کی چی صرف دهندوانو بچی پټ وی، که چیری هلته څوك مسلمان ولاړسی نوڅه به وایی اوکه نه خاموش به اوسی؟

دهندوانو بچیان جنتیان دی که دوږخیان؟ سوال: (۳۱۷۴\۲) دهندوانو دغه بچی جنتیان دی اوکه دوږخیان؟

جواب: ۱\، ۲: دهندوانو کم نابالغه بچی چی مړه سی هغوی جنتیان دی، (۴) او دهندوانو

= الجنائز مطلب زیارة القبور ج۱ ص ۸۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۲). ظفیر

(۱). وفي البحر: من صام أو صلى أو تصدق وجعل ثوابه لغيره من الاموات والاحياء جاز، ويصل ثوابها إليهم عند أهل السنة والجماعة، كذا في البدائع، ثم قال: وبهذا علم أنه لا فرق بين أن يكون المجعول له ميتا أو حيا. والظاهر أنه لا فرق بين أن ينوي به عند الفعل للغير أو يفعله لنفسه بعد ذلك يجعل ثوابه لغيره (ردالمحتار باب الجنائز مطلب فی القرآئت للمیت ج۱ ص ۸۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۳). ظفیر

(۲). وفي الحديث من قراء الاخلاص احد عشر مرة ثم وهب اجرها للاموات اعطی من الاجر بعدد الاموات (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی القرآئت للمیت ج۱ ص ۸۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۲). ظفیر

(۳).وكذا) ما يفعلونه من قبيل (الارض بين يدي العلماء) والعظماء فحرام، والفاعل والراضي به آثمان لانه يشبه عبادة الوثن، وهل يكفران؟ على وجه العبادة والتعظيم كفر، وإن على وجه التحية لا، وصار آثما مرتكبا للكبيرة، وفي الملتقط: التواضع لغير الله حرام (درمختار) وقال شمس الائمة السرخسی ان کان السجود لغیرالله تعالی علی وجه التعظیم کفرآهـ. قال القهستانی وفی الظهیریه یکفر بالسجدة مطلقا (ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی الاستبراء ج۵ ص ۲۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۳). ظفیر [باقی]

په قبرستان کی چیری چی صرف ماشومان ښخ وی دڅه ویلو ضرورت نسته ([1]). فقط

دشپی په وخت کی دقبرونو زیارت جائزدی اوکه نه: **سوال:** (۳۱۷۵) دشپی په وخت کی دقبرونو زیارت کول یعنی دمړو دپاره څه ویل او وربخښل جائزدی اوکه نه؟

جواب: جائز دی لاطلاق قوله ﷺ الا فزوروها، الحدیث ([2]) فقط

دزیارت کونکو اطلاع مړی ته: **سوال:** (۳۱۷۶) دفقهی په اکثرو معتبرو کتابونو مثلا شامی، طحطاوی علی مراقی الفلاح، فتح القدیر کی دمحمد ابن واسع فیصله یاقول په داشان درج دی، فقد قال محمد بن واسع الموتٰی یعلمون بزوارهم یوم الجمعة ویومًا قبله ویوما بعد، شامی باب زیارت القبور وهکذا فی الطحطاوی علی المراقی الفلاح، وشرح الصدور للعلامة السیوطی وفتح القدیر، لیکن دعلامه شامی څخه علاوه په باقی کتابونو کی لفظ دبلغنی دی کم چی پردې دلالت کوی چی محمدبن واسع ته دبل چاڅخه داقول رسیدلی دی اوپه شامی کی لفظ دبلغنی نسته، کم چی دلالت کوی چی دافیصله یاحکم پخپله دمحمد بن واسع دی، نودشامی عبارت به معتبر ګڼل کیږی اوکه نه دنورو کتابونو؟ ایا دافیصله درسته ده؟

جواب: دشامی دعبارت دامطلب اخیستل په کاردی، فقد قال محمد بن ([3]) واسع ناقلا عن السلف الخ، نوپه دی صورة کی به دشامی دعبارت اودنورو کتابونو ترمینځه به څه تعارض پاته نه سی چی دهغه په وجهی سره دچا تغلیط وسی بلکی په دواړو کی تطبیق وسو، اوښکاره همداده چی محمد بن واسع داقول دسلفو څخه نقل فرمایی، اودخپله ځانه څخه نه وایی بلکی دبلغنی لفظ پرخپل حال ساتل په کاردی، اوپه اولنی عبارت کی تاویل کول په کار دی. فقط

په صاحب زکوٰة باندی دثواب په نیت سره ډوډی خوړل څنګه دی؟ **سوال:** (۳۱۷۷) یوعالم اوحافظ صاحبِ زکوٰة دی که په هغه باندی دبزرګ ګڼلو په وجه ډوډی وخوړل سی او دهغه ثواب نبی کریم ﷺ اوخلفاءِ راشدینو ته اودخپلو احبابو روحانو ته رسول درست دی اوکه نه؟ اوثواب ورته رسیږی اوکه نه؟

([4]). وتوقف الامام الاعظم فی سوال اطفال الکفرة ودخولهم الجنة وغیره حکم بذالك فیکونون خدم اهل الجنة (شرح فقه اکبر ص ۱۲۱). ظفیر

([1]). صرف دمسلمانانو په قبرستان کی دویلو حکم دی. ظفیر

([2]). وګوری مشکوٰة باب زیارت القبور فصل اول ص ۱۵۴، ردالمحتار ط. س. ج۲ ص ۲۴۲. ظفیر

([3]). په سوال کی یې چی کم عبارت نقل کړی دی په جواب کی هم دهغه حواله ده. ددی دپاره وګوری ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی زیارة القبور ج۱ ص ۸۴۳. ظفیر

جواب: په فقیرانوباندی په خوړلوکی زیات ثواب دی که چیری داخلاص په نیت سره وی.

دقبر چار چاپیره پخول: **سوال**: (۳۱۷۸\۱) لحد خام ساتل اوباقی چار چاپیره قبر پوخ جوړول جائزدی اوکه نه؟

دمزار په خواکی دجومات جوړول څنګه دی؟ **سوال**: (۳۱۷۹\۲) دمزار په خواکی جومات جوړول او دفیض حاصلوونکی دپاره دحجری تیارول څنګه دی؟

دبزرګانو قبرونه ولی پاخه جوړیږی؟ **سوال**: (۳۱۸۰ \۳) دمتقدمینو اودینی بزرګانو کمی مقبری چی په عربو اوهندوستان وغیره کی موجودی دی، علماؤ ددی پخول څنګه جائز کړی دی؟

جواب: ۱\: وعن جابر ﷺ قال: نهی رسول الله ﷺ ان یجصص القبور وان یکتب علیها وان توطأ، رواه الترمذی ([1]) وفی الدر المختار لا الاجر المطبوخ الخ ([2]). ددی حدیث شریف اودفقهی دکتابونو دعبارت څخه معلومه سوه چی دهیڅ یومړی قبر پخول درست نه دی اودقبر تعویذ خام پرینښوول اوچار چاپیره یی پخول هم درست نه دی. فقط

۲\: دمزارسره نژدی دجومات په موجودوالی اودحجرو په موجودوالی کی څه حرج نسته چی لمونځ ګذاروته مخامخ قبرنه وی نوپه قبرستان کی په لمونځ کولوکی څه حرج نسته.

۳\: شرعی حکم دحدیث مذکور نمبر ،۱، اودفقهی روایت مذکور نمبر،۱ څخه واضح سو اوعلامه شامی دبدائع څخه نقل فرمایلی دی، قوله المطبوخ صفة کاشفة قال فی البدائع لانه یستعمل للزینة ولا حاجة للمیت الیها ولانه مما مسته النار فیکره ان یجعل علی المیت تفاولاً ([3])، دبدائع ددی روایت څخه داخبره په ښه شان سره ثابته سوه چی پخه خښته پرقبر باندی ایښوول په دوو وجهو سره مکروه دی یوداچی مړی ته دزینت او دآراسته والی ضرورت نسته، دوهمه داچی هغه په اور کی پخه سویده، تفاولا مړی ته نژدی داسی شی ایښوول نه دی په کار، کم چی په اور کی پوخ سوی وی اوددین بزرګانو داپخول نه دی خوښ کړی که چیری یوبل سړی دیو بزرګ قبر پوخ کړی وی نوپه دی کی ددغه بزرګ پرذمه هیڅ څه مؤاخذه نسته.

دکلام مجید اودتفسیر دکتابونو په هدیه کولو سره دثواب رسول: **سوال**: (۳۱۸۱) هنده کونډه ښځه دخپل وفات سوی خاوندروح ته ثواب رسول غواړی اوهنده پخپله مالکه اومختاره ده، هیڅ هلك وغیره یی نسته، لهذا څه رکم چی جائزوی هغسی به وسی، کلام مجید او

---

[1]. ترمذی باب ماجاء فی کراهیة تجصیص القبور والکتابة علیها . ظفیر

[2]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الجنائزج۱ ص ۸۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۲. ظفیر

[3]. ردالمحتار باب الجنائز مطلب فی دفن المیت ج۱ ص ۸۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۲. ظفیر

تفسیر اودحدیث شریف کتابونه هدیه کول اویو عالم یاحافظ یاطالب علم ته په ورکولو سره مړوته ثواب بخښل جائزدی اوکه نه؟ اوڅه روپی دجومات په مرمت کی اواسلامی مدرسوکی ورکول اومړوته یی ثواب رسول جائزدی اوکه نه؟ یابغیر دمقرر تاریخ څخه دعالم، حافظ لمونځ ګذار وغیره دعوت کول اوپه هغوی باندی ډوډی خوړل اومړوته یی ثواب بخښل جائزدی؟ یاکمه طریقه چی مناسبه وی په هغه طریقی سره به وسی؟

جواب: دثواب رسولو داطریقه عمده اومستحسنه ده برابره خبره ده که په اسلامی مدرسوکی دمسکینانو طالبانو دامداد دپاره وی، څه نقدی اوکپړه وغیره ورکړی اوکه د حدیث اودتفسیر اودفقهی کتابونه واخلی اوپه مدرسه کی یی وقف کړی ددی دپاره چی طالبان دهغه څخه همیشه فائده اخلی اومړی ته به همیشه ثواب رسیږی، اودقرآن مجید اودکلمی طیبی ویلو ثواب رسول هم ښه دی (١).

که دمړی ددفن کولو څخه مخکی دمقبری څخه تلل غواړی نوایا دمړی دوارثانو څخه اجازه اخیستل ضروری دی؟ **سوال**: (٣١٨٢) دجنازی دلمانځه کولو څخه وروسته دمړی ددفن کولو څخه مخکی که څیری یو سړی دقبرستان څخه تلل غواړی نودمړی دوارثانو څخه داجازی اخیستلو ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: داجازی اخیستلو ضرورت نسته، البته ددفن کولوڅخه مخکی په راتللوکی ددفن کولو څخه وروسته تر راتللو به ثواب کمیږی. (٢) فقط

دقرآن خوانی اودایصال ثواب دپاره ددریمی ورځی قید ضروری نه دی: **سوال**: (٣١٨٣) دمړی په دریمه ورځ دقرآن کریم ویل جائز دی اوکه نه؟

جواب: اصل دادی چی که څیری قرآن کریم بغیر دمعاوضی څخه وویل سی اوثواب یی مړی ته ورسول سی نوثواب ورته رسیږی (٣)، لیکن دیوی ورځی اودتاریخ تخصیص دي نه وی، اوکه څیری په هغه طریقه وی څنګه چی اکثره په دی زمانه کی مروجه ده چی په

---

(١). صرح علمائنا الخ بان للانسان ان یجعل ثواب عمله لغیره صلوٰة اوصوما اوصدقة اوغیرها کذافی الهدایة (رد المحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی القرآئت للمیت ج١ ص ٨٤٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤٣). ظفیر

(٢). لما فی ابن ماجه عن ابی هریره‌ؓ ان رسول الله ﷺ صلی علی جنازة ثم اتی القبر فحثی علیه (ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٣٨) وعن أبي هريرة ﷺ قال : قال رسول الله ﷺ : من اتبع جنازة مسلم إيمانا واحتسابا وكان معه حتى يصلي عليها ويفرغ من دفنها فإنه يرجع من الأجر بقيراطين كل قيراط مثل أحد ومن صلى عليها ثم رجع قبل أن تدفن فإنه يرجع بقيراط. متفق عليه (مشکوٰة باب المشی بالجنازة الخ ص ١٤٤). ظفیر

(٣). وفی شرح اللباب ان یقرا من القرآن ماتیسر له من الفاتحة واول البقرة الی المفلحون وآیة الکرسی وآمن الرسول وسورة یٰس الخ ثم یقول اوصل ثواب ماقراناه الی فلان والیهم (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی القرآئت للمیت ج١ ص ٨٤٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤٣). ظفیر

دریمه ورځ په ماشومانو اولویو باندی قرآن کریم وویل سی، اوبیاپه هغوی باندی پیسی وغیره تقسیمولی سی نودا جائزنه دی اوپه دی کی مړی ته ثواب نه رسیږی. (۱) فقط

نهم فصل: متفرقات

دمړی دتعظیم دپاره دریدل څنګه دی؟ سوال: (۳۱۸۴) دمړی دتعظیم دپاره دریدل څنګه دی؟

جواب: دمړی دلیدلو سره دریدل په حدیث شریف کی راغلی دی لهذا په دیکی څه حرج نسته (۲). فقط

په قبر باندی دښائستوالی دپاره ګلونه اچول څنګه دی؟ سوال: (۳۱۸۵) که چیری یو سړی دښائستوالی په طور سره پرقبر باندی ګلونه کښیږدی نوڅه حرج پکښی سته اوکه نه؟

جواب: په قبرباندی ګلونه وغیره اچول نه دی په کار (۳). فقط

که چیری دقرض اداء کول دمړګ څخه څوورځی وروسته وسی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۳۱۸٦) دزید وفات سوی پرذمه باندی قرض باقی پاته سو، دهغه وارثانو څه موده تیریدلو څخه وروسته اداء کی نودادا کولو څخه مخکی دقرض نه اداء کیدلو عذاب په قبر کی وی اوکه نه؟

جواب: که چیری دقرض اداء کولو څخه مخکی عذاب قبرسوی وی نوهغه عذاب دقرض داداء کولو څخه وروسته انشاء الله تعالی مرتفع سو حتی الوسع دمړی په قرض اداء

---

(۱). ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع الخ واتخاذالدعوة القرآئت القرآن الخ (ردالمحتار باب صلاة الجنازة ج۱ ص ۸۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۰). ظفیر

(۲). عن عبدالرحمٰن بن ابی لیلی قال کان سهل بن حنیف وقیس بن سعد قاعدین بالقادسیة فمر علیهما بجنازة فقاما، فقیل لهما انها من اهل الذمة، فقال: ان رسول الله ﷺ مرت به جنازة فقام فقیل له انها جنازة یهودی، فقال الیست نفسا متفق علیه (مشکوٰة باب المشی بالجنازة ص ۱۴۷) ددی څخه علاوه نور ډیر حدیثونه ددی مضمون په همدی باب کی راغلی دی دکمو څخه چی معلومیږی چی مخکی ددریدلو حکم وو، بیاهغه حکم منسوخ سو لیکن جواز یې بیاهم باقی پاته وو، اودا دریدل په اصل کی دخالق النفس اودملائکو دتعظیم دپاره دی. والله تعالی اعلم . ظفیر

(۳). په هیسی اېښوولو کی څه نقصان نسته: وضع الورد والریاحین علی القبور حسن وان تصدق بقیمة الورد کان احسن (عالمګیری کتاب الکراهیة باب السادس عشر ج۵ ص ۳۲۳ ، ط. س. ج۴ ص ۳۵۱) ددی څخه معلومه سوه چی ښه داده چی دهغه قیمت دایصال ثواب په نیت سره صدقه سی اوپه دی زمانه کی چونکی دګلونو څادر پرقبر باندی دخپرولو رواج دی اودا دثواب کارګڼل سویدی په دی وجه داچول په بدعاتو کی داخل دی اوددی څخه ځان ساتل ضروری دی. والله اعلم. ظفیر مفتاحی

کولوکی تلوار په کاردی ځکه چی په احادیثو کی دقرض په باره کی سخت عذاب وارد دی (1). فقط

دیوولی قبرته په ارادی سره تلل ښتکه دی؟ سوال: (۳۱۸۷\۱) دیوبزرګ یاولی یاپیر مزارته په قصد کولو اوسفر کولو سره تلل ښنګه دی؟

دخپلو والدینو مزارته بل ملک ته تلل ښتکه دی؟ سوال: (۳۱۸۹\۲) زوی دخپل مور اوپلار مزارته بل ملك ته تللی سی اوکه نه؟

جواب: \۱: دځه خاص ورځی دتعین ښخه بغیر که چیری کله ولاړسی نو ښه بدیت یی نسته (2)، داولیاء الله مزاراتو ته تلل دبرکت ښخه خالی نه دی \۲: تللی سی (3). فقط

دروح کورته دراتللو روایت محقق نه دی: سوال: (۸۱۸۹) شاه عبدالعزیز صاحب محدث دهلویؒ په مفید المفتی کی دروح په باره کی فرمایی چی امام رازی رحمه الله لیکلی دی چی دابوهریرة رضی الله عنه ښخه روایت دی: اذا مات المؤمن دار روحه حول داره شهراً فينظر الى خلفه من ماله كيف يقسم ماله وكيف يؤدى دينه فاذا تم شهراً رد الى حضرته فيدور حول قبره حولاً وينظر روحه من يدعو له ويحزن عليه فاذا تم سنة رفع الى حيث يجمع الخلائق الى يوم ينفخ فى الصور، انتهى، اومولانا عبد الحی صاحبؒ په جواب داستفتاء نمبر ۳۱۷، کی تحریر فرمایی چی ظاهراً داحادیثو مبارکو ښخه داسی معلومیږی چی دقبض ښخه وروسته روح علیین ته ولاړسی، په بزازیه کی روایت دی، فاذا خرجت روحه وضعت على ذلك المسك والريحان وذهب به الى عليين، اوداخبره چی یوه چهله (ځلوښتی) په کورکی اویوکال په قبرکی پاته سی بیا علیین ته ځی ثابته نه ده. په دی کی محققو قول کم یودی؟

جواب: په دیکی محقق قول هغه دی کم چی مولانا عبدالحی صاحبؒ لیکلی دی (4).

که فاسق دجُمعې په ورځ مړ سی نو حساب به ورسره وی او که نه؟ سوال: (۳۱۹۰) که چیری

---

(1). ان رسول الله ﷺ قال قتل مطل الغنى ظلم متفق عليه (باب مشكوة الانظار والافلاس فصل اول) اى تاخيره اداء الدين عن وقته الى وقت ظلم فان المطل منع اداء ما استحق اداءه وهو حرام من المتمكن (مرقاة شرح مشكاة، باب ايضاً ج ۳ ص ۳۳۷). ظفير

(2). و (3). بزيارة القبور ولو للنساء لحديث كنت نهيتكم عن زيارة القبور الا فزروها ويقول السلام عليكم دار قوم مؤمنين وانا انشاء الله بكم لاحقون ويقرأ يٰس الخ (درمختار) قوله: بزيارة القبور اى لا باس بها بل تندب كما فى البحر الخ وتزار فى كل سبوع كما فى مختارات النوازل، قال فى شرح اللباب المناسك الا ان الافضل يوم الجمعة والسبت والاثنين والخميس الخ وفيه ويستحب ان يزور شهداء جبل أحُد الخ قلت استفيد منه ندب الزيارة وان بعد محلها الخ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فى فى زيارة القبور ج۱ ص ۸۴۳، ط. س. ج۲ ص ۲۴۲). ظفير

(4). اخرج البزاز بسند صحيح عن ابى هريرة رفعه الخ ان المومن تصعد روحه الى السماء فتاتيه ارواح المومنين الخ عن الحسن قال قال رسول الله ﷺ اذامات العبد تلقى روحه المومنين (شرح الصدور ص ۲۰). ظفير

یو فاسق فاجر دجُمعې په ورځ مړسی نودهغه سره به دمنکر اونکیر حساب اودقبر ضغطه کیږی اوکه نه کیږی اودجُمعې دورځی وروسته بیا عود کیږی اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی. مامن مسلم یموت یوم الجمعة اولیلة الجمعة الا وقاه الله فتنة القبر (۱)، قال القاری فی شرح المرقاة فتنة القبر ای عذابه وسواله وهو یحتمل الاطلاق والتقیید، الاول هو الاولی بالنسبة الی فضل مولی (۲)، اوددی څخه وروسته حضرت شارح موصوف رحمه الله ښوروایاته په دی باره کی نقل فرمایلی، اوښکاره داده چی عذاب بیا رانه راځی. اوپه شامی کی نقل سوی دی چی دجُمعې په ورځ عذاب منقطع سی نوبیا نه کیږی (۳). فقط

دمړی روح کورته راځی اوکه نه؟ اوپه خوب کی مړی ښکه راځی: سوال: (۳۱۹۱) دمړی روح کورته راځی یانه؟ که چیری نه راځی نوپه خوب کی ښنگه راځی په نظرکی؟

جواب: په خوب کی دکم مړی راتلل په نظر ددی مقتضی نه دی چی دده روح دي کورته راځی، بلکی په خوب کی کتل دمړی په سبب دروحانیت دی دکور سره دروح دراتللو هیڅ تعلق نسته، ډیر ژوندی خلک چی په لیری علاقو کی اوسیږی په خوب کی لیدل کیږی نو دخوب قصه جلاده، دښکاره جسمونو اتصال ددی دپاره ضروری نه دی، عالم ارواح دوهم عالم دی. فقط

دبیلمانزه دجنازی لمونځ دي هم وسی هغه دي ځنګول کیږی نه: سوال: (۳۱۹۲) په بعضو کلیو اوښارونو کی دبیلمانزه جنازه نه کیږی هغه رازوړند کړی اوځنګوی یی نوداعمل په شریعت کی صحیح دی اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی: صلوا علی کل بر وفاجر، (۴) یعنی دجنازی لمونځ وکړی په هر نیك اوبد باندی، نوداعمل ددی خلګو صحیح نه دی چی دبیلمانزه مړی زوړند اوبغیر دجنازی دفن کړی، داسی کول حرام دی.

صاحب مزار ته ددعاء درخواست جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۳۱۹۳/۱) دحنفی مذهب ترمخه ددین دبزرګانو مزارته تلل اودا عرض ورته کول چی ته مقبول خداوند یی، ته زموږ دپاره دعاء وکړه چی زموږ فلانی مراد پوره سی، داجائز دی اوکه نه؟

دحضرت امام اعظم رحمه الله په نزد د وفات څخه وروسته د دین بزرګان اوری او که نه؟ سوال:

---

(۱). مشکوٰة باب الجمعة عن الترمذی وغیره . ظفیر

(۲). مرقات شرح مشکوٰة باب الجمعة ج۲ ص ۱۱۲. ظفیر

(۳). ثم ذکران من لایسئل ثمانیة الشهید الخ والمیت یوم الجمعة اولیلتها (ردالمحتار باب الجنائز مطلب ثمانیة لایسئلون فی قبورهم ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۲). ظفیر

(۴). شرح فقه اکبر ص ۹۱. ظفیر

(٣١٩٤\٢) دامام صاحب ﷺ په نزد ددين بزرګان وروسته دوفات څخه دزيارت کونکو خبری اوری اوکه نه؟

<u>ايا امام صاحب ﷺ يو سړی قبرته دالتجاء کولو څخه منع کړی وو؟</u> سوال: (٣١٩٥\٣) آيا داصحيح ده چی امام صاحب ﷺ يوسړی وليدی چی ديوقبر والا سره يی عرض معروض کوی، نوهغوی ورته وفرمايل چی ته داسی سړی ته التجاء کوی چی اوريدلی يی هم نسی .

<u>دامام صاحب ﷺ په تائيدکی چی کم آيت ياحديث مبارکين وی هغه دي پيش سی</u>: سوال: (١٣٩٦\٤) که چيری يو آيت کريمه ياحديث مبارك دامام صاحب ﷺ دقول په تائيد کی وی نوهغه هم تحرير وفرماياست؟

جواب: \١ څخه تر ۴: دمړو په اوريدلو کی اختلاف دی اودا اختلاف دصحابه کرامو ﷺ دزمانی څخه دی، ډير امامان دسماع موتی قائل دی اودحنفيانو په کتابونو کی بعضی مسائل داسی ذکر سويدی دکمو څخه چی عدم سماع موتٰی معلوميږی، ليکن دحضرت امام صاحب ﷺ څخه په دی باره کی هيڅ څه تصريح نه نقل کوی اواستدلال دعدم سماع موتٰی دايت کريمه، انك لاتسمع الموتٰی، وغيره څخه کوی اودمجوزينو استدلال دحديث شريف، ما انتم باسمع منهم الخ، اودحديث سماع قرع نعال څخه دی او دذکر سوی آيت کريمه داجواب ورکوی چی نفی دسماع قبول ده، غرض داچی دامسئله مختلف فيه ([1]) ده، اوقول فيصل کول په دی کی ګران دی، نوعواموته په دی کی سکوت مناسب دی، کله چی علماء ته په دی کی هم ترد ددی اودلائل ددواړو فريقينو موجود دی اوکله چی دمړو په اوريدلو کی اختلاف سو، نوپه دی کی هم اختلاف سو چی دبزرګان دين په مزاراتو باندی په داشان دعاء کول چی الله ﷻ ته سوال وکړه چی زما فلانی حاجت پوره کی دابه هم مختلف فيه وی، البته احوط دادی چی په دی طريقی سره دعاء وکړی چی ياالله! دخپل دی نيك بنده په برکت سره زما دعاء قبوله کړی اوزما حاجت پوره کړی ([2]).

<u>دفرشتو په باره کی غلطه عقيده</u>: سوال: (٣١٩٧) يوسړی دسکتی په حالت کی وو، عزرائيل ﷺ دهغه روح قبض کی اودايی وی وړی په دوزخ کی يی واچوی، دهغه څخه

([1]). حواله يې مخکې تيره سويده . ظفير

([2]). وکره قوله بحق رسلك وانبيائك واوليائك اوبحق البيت لانه لاحق للخالق على الخالق تعالى (درمختار) قوله كره الخ هذا لم يخالف فيه ابو يوسف ﷺ بخلاف مسئلة المتن السابقة الخ وجاء فى الاثار ما دل على الجواز (رد المحتار كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع ج٥ ص ٣٤٩ ، ط. س. ج٦ ص ٣٩٧). ظفير

وروسته الله ﷻ عزرائيل ؑ ته وويل چې ستا څخه غلطي وسوه، په همدې نوم باندې يوبل سړى دى دهغه روح قبض كړه اورايې وړه، هغه پريږده خو پرښتو پرې نه ښووى چې مړى ته پته ولګيده نوهغه چيغې اوسانى شروع كړې، اخر فرشتو دتوشى ډوډى كم چې دجنازې سره اېښوول كيږى په رشوت كې واخيستل اوهغه يې پرېښوول، نودفرشتو حكم نه منل اورشوت اخيستل اوداسى غلطي كول ممكن دى؟

جواب: دملائكو كرامو په باره كې وارد دى، لا يعصون الله ما امرهم ويفعلون مايؤمرون (۱). يعنى هغوى په هيڅ كاركې دالله ﷻ دحكم خلاف نه كوى اوهغوى ته چې څه حكم كيږى هم هغه كوى نودهغوى په باره كې داسې اعتقاد غلط اوباطل اودروغ اوافتراء ده، فقط

دمرګ څخه وروسته روح چيرى وى اوپه قبركې سوال اوجواب: **سوال**: (۳۱۹۸) دمرګ څخه وروسته چې كمه پوښتنه وغيره كيږى نوروح خودمرګ څخه وروسته آسمان ته ولاړسى بيا قبرته راوستل كيږى اوكه نه په بدن كې بند سى؟

جواب: دبدن سره دروح تعلق وى (۲). فقط

دغير انسانانو روحونه: **سوال**: (۳۱۹۹) دانسانانو وغيره څخه ماسوا دباقي حيواناتو روحونه چيرى اوسيږى؟

جواب: په حديث شريف كې راغې چې حيوانات به ديوبل څخه دبدل اخيستلو څخه وروسته فناء سى (۳). فقط

دبوهريانو عقائد اودهغوى په باره كې يوڅو پوښتنې: **سوال**: (۳۲۰۰) دلته يوه ډله ده چې هغوى ته بوهرګان وايي داخلګ داؤدي شيعه ګان دى، په دوى كې يوجماعت داسې تيار سوى دى څوك چې ددى دپاره كوشش كوى چې په ذكر سوى فرقه كې اصلاح وسى، ټولې فرقې دسورة دملا طاهر سيف الدين ماتحت دى څوك چې دآسمان څخه لاندې خداى ګڼل كيږى، نعوذ بالله، دغه اصلاح كوونكى جماعت دذكرسوى خلاف علمِ جهاد لوړ كې، په دې وجه ټولو فرقو دوى دجماعت څخه خارج كړى دى ، ددغه اصلاح خوښې

---

(۱). سورة التحريم : ركوع ۱. ظفير

(۲). واختلاف كرده اند كه عذاب قبر بزنده گردانيدن ميت است يا درمقابله داشتن روح باوى يابنوعى ديگر كه پروردگار تعالى خواهد وما را بدريافت كنه حقيقت آن راه نه باشد وحق آن است كه باحياء است، چنانكه ظاهر احاديث مباركه دال است برآن الخ (اشعة اللمعات جلد اول ص ۱۳ ، باب اثبات عذاب القبر). ظفير

(۳). قال رسول الله ﷺ لتؤدن الحقوق الى اهلها يوم القيامة حتى يقاد للشاة الجلحاء من الشاة القرناء رواه مسلم (باب الظم ص ۴۳۵) وهذا تشريح بحشر البهائم يوم القيامة واعادتها كما اهل التكليف من الادمين والاطفال ؒ واما القصاص من القرناء للجلحاء فليس من قصاص التكليف بل هو قصاص المقابلة الخ (مرقاة ج۴ ص ۷۲۱). ظ

جماعت خیالات مجملاً دادی:

قرآن کریم ته نامکمل ویل اوپه صحابه کرامو ﷺ باندی تبرا کول سخته گناه ده، ذکر سوی ملاته دیوانسان دحیثیت څخه زیاته مرتبه ورکول معصیت دی، داخیال سراسر خطا اوبیهوده دی چی دملا مذکور دبیعت څخه بغیر به هیڅوك جنت ته نه داخلیږی، غرض داچی په دوی اواهل سنت کی دافرق دی چی دوی په څلورو امامانو کی دهیچا مقلد نه دی، ددی څخه علاوه دموجوده تحریكِ خلافت ډیر زیات تائید کونکی اوسرگرم کارکنان دی، ددغه اصلاح پسند جماعت دلته صرف یو کوردی یوڅو ورځوی وسوی چی په هغوی کی یوه ښځه مړه سوی وه کمه چی پخپله هم دغه رکم روشن خیاله وه، قوم چونکی ددوی سره تعلقات ختم کړی دی په دی وجه هیڅوك ددوی مړی ته نه ولاړه، ددی دپاره اهل سنت خلگو داسلامی ورورولی په تقاضا دمړی په تجهیز اوتکفین کی شرکت وکی، اوامداد یی ورسره وکی اودجنازی لمونځ یی هم وکی، موږ خلگو دمړی په ولی پسی دجنازی لمونځ وکی څوك چی داصلاح پسند جماعت سر گروپ دی.

دجنازی دلمانځه ورکولو مختصر کیفیت دادی! چی امام کتاب ته په کتلو سره دعاء وویل، بیایی دلمانځه نیت وکی دپنځو تکبیرونو سره، اوڅه رکم چی موږ لمونځ کوی هم هغه رکم یی لمونځ وکی، فرق یی دومره قدر وو چی کتاب یی په لاس کی اخیستی او لمونځ یی وکی په پنځو تکبیرونو سره. عوام اعتراض کوی چی کمو خلگو په دغه امام پسی دجنازی لمونځ وکی نوهغوی داهل سنت څخه خارج سوه. نواوس دلاندینیو خبرو او پوښتنو جوابونه او معلومات غواړو؟

١. دمړی په دغه بی کسی کی زموږ فرض څه وو؟

٢. په پورته ذکر سوو عقیدو والاپسی فرض، سنت اودجنازی لمونځ کیدی سی اوکه نه؟

٣. په شیعه پسی فرض لمونځ او دجنازی لمونځ کیدی سی اوکه نه؟

۴. په صورة دجواز کی دلعن اوطعن کونکی دپاره څه حکم دی؟

۵. په صورة دعدم جواز کی لمونځ کونکی کافران یاگنهگار سوه؟

جواب: داهل سنت والجماعت په نزد دجنازی دلمونځ دپاره هم هغه ټول شرائط دی کم چی دنورو لمونځونو دپاره دی ماسواء دقرآئت اودرکوع اوسجدی وغیره څخه، کم چی دفقهی په کتابونو کی ذکرسوی دی اوکم امور چی نور لمونځونه فاسدوی، هم هغه دجنازی لمونځ هم فاسدوی لکه څنگه چی په شامی کی دی، وفی البحر ویفسدها ما

يفسد الصلوة الا المحاذات الخ (١)، نو كتاب په لاس کی ساتل اوهغه ته په كتلو سره دجنازی لمونځ ورکول لمونځ ماتوی، لهذا دغه لمونځ ونه سو، باقی داصلاح پسند جماعت کم خیالات اوعقائد چی په سوال کی لیکلی دی داڅومره چی دی صحيح دی او اهل سنت والجماعت ته نژدی دی، ماسوا ددی څخه چی دڅلورو امامانو دتقليد جلا اوسیدل هم یو دازادی اسباب دی اوعدم تقليد اکثره داهل سنت والجماعت مخالفت طرف ته مفضی کیږی، په هرحال څومره څومره اصلاح چی کیدی سی په هغه کی کوشش کول مناسب دی اوټول مدارج داسلام په حاصلولو سره اهل سنت والجماعت کیدل پکار دی (٢)، اواهل سنت والجماعت چی دمړی په تجهیز اوتکفین کی اعانت وکی نوداشرعًا ممنوع نه دی، بلکی په ذکر سوی حالت کی ضروری وو، اودداسی بی کسی په حالت کی پراهل سنت والجماعت مسلمانانو باندی هم دالازم وه چی هغوی ددغه مړی تجهیز او تکفین وکړی اودهغه هرقسم امداد وکړی، البته دلمانځه امام داسی سړی جوړول چاچی په ذکر سوی طریقه باندی لمونځ ورکی کمه چی شرعًا جائزنه وه، داجائزنه وو، اوکله چی ددغه ډلی سړی امام سوی وو، نوهغه لره داهل سنت والجماعت په طریقه باندی لمونځ کول په کار وو، کنی اهل سنت والجماعت لره په هغه پسی په لمونځ کولو کی شرکت نه وو په کار، خیرڅه چی وسوه هغه وسوه، دلعن اوطعن کولو هغوی ته ضرورت نسته، دائنده دپاره په دی کی احتياط كول په كاردی، اوکله چی اصلاح پسند جماعت داصلاح کولو همت کړی دی، نوپه پوره توګه اصلاح کول په کاردی، ځکه چی نجات پیداکونکی فرقه صرف اهل سنت والجماعت ده (٣)، دحدیث شریف ترمخه دیوه وربېنته دسرپه اندازه ددې جماعت جلا اوسیدل نه دی پکار:

فراق دوست اگر اندك است اندك نیست میان ددیده اگر نیم مو است بسیار است

دمحبوب جدایی که کمه وی نوهم کمه نه ده، په سترګه کی معمولی وربېنته هم ډیردی.

دشیعه یابوهره دپاره ایصال ثواب اودهغوی په جنازه کی شرکت جائزدی اوکه نه؟ سوال:

(٣٣٠١) دشیعه یابوهره دجنازی لمونځ یاقرآن خوانی په غرض دایصال ثواب یادتعزیت په وخت کی دمغفرت دعاء کول یا دمړی سره ترقبرستان پوری تلل اهل سنت والجماعت

---

(١). ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی صلاة الجنازة ج١ ص ٨١١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٧. ظفير

(٢). ان بنی اسرائیل تفرقت علی ثنتین وسبعین ملة وتفترق امتی علی ثلث وسبعین ملة کلهم فی النار الاملة واحدة قالوا من هي يارسول الله؟ قال: ما انا عليه واصحابی رواه الترمذی (مشكوٰة باب اعتصام ص ٣٠). ظفير

(٣). وبهذا ظهر ان الرافضی ان كان ممن يعتقد الالوهية فی علی ﷺ وان جبريلؑ غلط فی الوحی اوكان ينكر صحبة الصديق ﷺ ويقذف السيدة الصديقة ﷺ فهو كافر لمخالفة القواطع المعلومة من الدين بالضرورة (رد المحتار كتاب النكاح فصل فی المحرمات ج٢ ص ٣٩٨ ، ط. س. ج٣ ص ٤٢). ظفير

لره درست دی اوکه نه؟

جواب: دجنازی لمونځ يی کول او دهغوی دپاره دمغفرت غوښتل درست نه دی، او تر قبرستانه پوری په تللو يانه تللوکی ياتعزيت اداء کولو اونه کولوکی دي دخپلو مصالحو اوضرورت مطابق عمل وکی ([1]). فقط

دشيعه جنازه رسماً په مځکه باندی ايښوول څنګه دی؟ **سوال**: (٣٢٠٢) کله چی شيعه ګان قبرستان ته جنازه وړی نودلاری څخه يوې خواته جنازه پرمځکه باندی دپنځو منټو دپاره کښيږدی، داجائزدی اوکه نه؟

جواب: داتوقف بغير دشرعی وجه څخه جائزنه دی په احاديثو مبارکو کی دجنازی دژر وړلو حکم دی ([2]). فقط

دبيرولو دپاره داحکم را ايستل درست دی چی څوک پنځه وخته لمونځ نه کوی دهغه دجنازی لمونځ جائزنه دی: **سوال**: (٣٢٠٣) دخلګو دمتوجه کولو دپاره مايو حکم را ايستلی دی هغه داچی دبيلمانزه جنازه مه کوی، داسی حکم ورکول تخويفا اوتهديداً جائزدی اوکه نه؟

جواب: داسی حکم کول درست نه دی، په حديث شريف کی دی، صلوا علی کل بر وفاجر، الحديث، اوښکاره ده چی دلمانځه پريښوونکی فاسق فاجردی، خوکافر عند الجمهور نه دی اوفقهاء چی باغيان وغيره مستثنٰی کړی دی په هغه کی يی هم دلمانځه پريښوونکی اوهريو فاسق داخل کړی نه دی، لهذا بالکل بغير دجنازی دلمانځه اداء کولو څخه مسلمانان دفن کول درست نه دی، دغه رکم مينځه اوبړواګان کم چی مسلمانان ګڼل کيږی، دلمانځه څخه بغير دفن کول يا دمسلمانانو په قبرستان کی دفن کولو ته نه پريښوول جائزنه دی، البته دعبرت دپاره داسی کيدی سی چی دلمانځه نه کوونکو وغيره فساقو لمونځ دي مقتدايان خلګ نه کوی، بلکی عوامو خلګو ته دي ووايی چی تاسی يی دجنازی لمونځ وکی اودفن يی کی ددی دپاره چی دلمانځه پريښوونکو ته آئنده دپاره عبرت وی، کما ورد فی الحديث. ([3]) فقط

([1]). ويقال فی تعزية المسلم بالکافر اعظم الله اجرك واحسن عزاك ﴿ (عالمگيری جنائز ج١ ص١٥٧، ط. ماجديه ج١ ص١٢٧). ظفير

([2]). ويسرع بها بلاخبب ﴿ وكره تاخيرصلاته ودفنه ليصلى عليه جمع عظيم بعدصلاة الجمعة (درمختار) للحديث أسرعوا بالجنازة، فإن كانت صالحة قدمتموها إلى الخير، وإن كانت غير ذلك فشر تضعونه عن رقابكم (رد المحتار باب صلاة الجنائز مطلب فی حمل الجنازة ج١ ص ٨٣٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣١). ظفير

([3]). وعن سلمة بن الأكوع قال: كنا جلوسا عند النبي ﷺ إذ أتي بجنازة فقالوا: صل عليها فقال : هل عليه دين ؟ قالوا : لا فصلى عليها ثم أتي بجنازة أخرى فقال: هل عليه دين ؟ قالوا: نعم فقال: فهل ترك شيئا ؟ قالوا: ثلاثة =

دسماع موتٰی بحث: **سوال**: (۳۲۰۴) ستاسی فتوٰی را ورسیدله حال معلوم سو، جوابا گذارش دی چی کله مړی ته دزائر علم اوادراك سته اوسماع نسته، نودا یوه داسی لا ینحل عقیده ده چی دخاکسار په پوهه کی نه راځی، مړی ته دي دزیارت کونکو علم وی او ادراك دي هم وی اوسماع دي نه وی. داعجیبه تماشه ده، دلیدلو اواوریدلو څخه بغیر علم یا ادراك نه کیږی بیامړی څه رکم معلومول کوی؟

جواب: په دی باره کی بنده هم هغه لیکلی دی کم چی حضرت عائشه ﷺ فرمایلی وو کله چی هغې ﷺ ته دا وویل سول چی حضور ﷺ دقلیب بدر والاوو په باره کی دا فرمایلی دی، ما انتم باسمع منهم. چی تاسی ددی مړونه زیات اوریدونکی نه یاست، نو حضرت عائشه ﷺ وفرمایل چی ددی حدیث شریف مطلب دادی چی. ما انتم باعلم منهم، یعنی تاسی ددوی څخه زیات نه پوهیږی غرض دهغې داوو چی مړوته علم سته اوسماع نسته، اوداځنگه ویل کیدی سی چی بغیر داوریدلو څخه علم اوادراك نه سی کیدلی، ډیرو خلگوته علم اوادراك کیږی سماع نه کیږی، نوپه دی قصو کی مه لویږه او دیو عالم څخه ځان باندی پوه کړه، اودا مسئله وپیژنه چی په قرآن پاك کی دسماع موتٰی څخه انکار سوی دی، لهذا په حدیث شریف کی تاویل کول مناسب دی (۱). فقط

دسماع موتٰی بحث: **سوال**: (۳۲۰۵) متعلق نمبر (۲۸۳۲) مندرجه رجسټر سنه ۱۳۳۹هـ. شك دادی چی ټول حنفی فقهاء دعدم سماع اموات مسئله تحریر فرمایی اوتاسی هم په یوځای کی فیصله تحریر فرمایلی ده چی عدم سماع موتٰی دامام صاحب ﷺ مذهب دی بیا وروسته دواسطی قول دی، هغه قول دفقهاؤ نقل کوی اوپر هغه باندی هیڅ قسم جرح اوقدح نه کوی، دکم څخه چی معلومیږی چی دسماع اموات مسئله درسته ده اودعدم سماع غلطه ده، لهٰذا محمدبن واسع ناقل عن السلف دی، داڅوك دی اودکم مذهب سړی دی؟

جواب: محمدبن واسع دتابعینوڅخه دی (۲) څوك چی دائمه مجتهدینو څخه مخکی دی،

= دنانير فصلى عليها ثم أتي بالثالثة فقال: هل عليه دين ؟ قالوا: ثلاثة دنانير قال: هل ترك شيئا ؟ قالوا : لا قال : صلوا على صاحبكم قال أبو قتادة: صلى يا رسول الله وعليّ دينه فصلى عليه. رواه البخاري (مشكوٰة باب الانظار والافلاس ص ۲۵۲). ظفير

(۱). دحوالی تفصیل په قدر دضرورت مخکی تیرسوی دی هلته دی وکتل سی، واجابوا هذا الحديث بانه مردود من عائشة ﷺ قالت كيف يقول رسول الله ﷺ ذلك والله تعالى يقول: ما انت بمسمع من فى القبور، وانك لا تسمع الموتى، اقول: والحديث المتفق عليه لا يصح ان يكون مردوداً، لا سيما ولا منافاة بينه وبين القرآن فان المراد من الموتى الكفار والنفى منصب على نفى النفع لا على مطلق السمع كقوله تعالى: صم بكم عمى فهم لا يعقلون، اوعلى نفى الجواب المترتب على السمع (مرقاة باب حكم الاسراء ج۴ ص ۲۴۲). ظفير

(۲). دمحمد بن واسع داحوالو دپاره وگوره : الأعلام دزرکلی ج ۷ ص ۱۳۳ ، پنځم چاپ ، دار العلم للملايين، =

ددغه وجهی څخه ده ته حنفی یاشافعی یابل څه نه سو ویلی لکه څنګه چی یی صحابه وو ته نسو ویلی، اومړوته دزائرینو علم کیدل دسماع موتٰی دلیل نه دی ځکه چی سماع موتٰی بل شی دی اوعلم اوادراك بل شی دی پخپله حضرت عائشه رضی الله عنها څوك چی دسماع موتٰی څخه انکار کوی بدلیل قوله: تعالٰی انك لاتسمع الموتٰی (١)، اوحدیث: ما انت باسمع منهم (٢)، کم چی دقلیبِ بدر په باره کی واردده، اودسماع موتٰی ثابتونکی ددی څخه دلیل نیسی، ددی تاویل په اعلم منهم سره کوی (٣). فقط

<u>دښځی دنس څخه دماشوم څه حصه ووتله اومړه سوه</u>: سوال: (٣٢٠٦) دښځی دنس څخه دماشوم یوه پښه پیدا سوه اودواړه مړه سول، نوهلك دهغې دخیتی څخه جلاسی اوکه نه په یوه غسل اوکفن کی دفن کړی؟

جواب: هلك دي نه جلا کوی، صرف دښځی غسل اوکفن اولمونځ کول یی کافی دی. فقط

<u>دمحرم په عشره کی دمړ کیدونکی بحث</u>: سوال: (٣٢٠٧) مشهوره ده چی څوك دمحرم په عشره کی وفات سی نوپه هغه باندی په عشره کی دننه عذاب نه وی، اونه ورسره حساب کتاب کیږی، دلسو ورځو څخه وروسته ورسره حساب وغیره کیږی. داصحیح ده اوکه نه؟

جواب: داخبره غلطه ده. دمحرم په عشره کی دمړ سوی دپاره دانه دی راغلی چی ترلسو ورځو پوری به وربانډی دقبر عذاب وغیره نه وی، البته په رمضان شریف کی اودجُمعې په ورځ دوفات سوی دپاره دابشارت په حدیث شریف کی راغلی دی (٤). فقط

<u>دجُمعې په شپه دروح کورته راتلل تحقیقی خبره نه ده</u>: سوال: (٣٢٠٨) دډیرو عالمانو څخه مواوریدلی دی چی دجُمعې په شپه روح دخپلو اقرباؤ کره راځی اودثواب امیدلرونکی وی اودجُمعې دلمانځه څخه وروسته بیرته ځی، داخبره صحیح ده اوکه نه ده. فقط

= بیروت، سنة ١٩٨٠ م. محمد أحمد الحقانی الأفغانی"

(١). سورة النمل: رکوع ٦. ظفیر　　(٢). فاطر: ٣. ظفیر

(٣). قال النبی ﷺ والذی نفس محمد بیده ما انتم باسمع لما اقول منهم وفی روایة ما انتم باسمع منهم ولکن لا یجیبون وفی شرح مسلم للنووی قال المازری قیل ان المیت یسمع عملا بظاهر هذا الحدیث وفیه نظر انه خاص فی حق هؤلاء ورد علیه القاضی وقال یحمل سماعهم علی ما یحمل علیه سماع الموتٰی فی احادیث عذاب القبر وفتنته التی لا مدفع لها وذلك باحیائهم او احیاء اجزاء منهم یعقلون به ویسمعون فی الوقت الذی یریده الله قال الشیخ هذا هو المختار قال ابن الهمام فی شرح الهدایة اعلم ان اکثر من مشائخ الحنفیة علی ان المیت لا یسمع الخ (مرقات ج٤ ص ٢٤٢). ظفیر

(٤). ثم ذکر ان من لایسئل ثمانیة الشهید الخ والاطفال والمیت یوم الجمعة اولیلتها (ردالمحتار ج١ ص ٧٩٧، ط. س. ج٢ ص ١٩٢). ظفیر

جواب: داځه تحقيقي خبره نه ده. فقط

دكافر كم بچي چي دمسلمان سره مړسي: **سوال**: (٣٢٠٩) يوماشوم چي مور اوپلار يي كافران وه ديوه مسلمان سره اوسيدى مسلمان چونكي بى اولاده وو، نودغه ماشوم يي متبنٰى جوړكى. دماشوم مور اوپلار دغريبى اودبى وسى په وجه دمسلمان څخه څه نذرانه واخيسته اوماشوم يي هغه ته حواله كى، اويو ځاى ولاړل، اوماشوم كم عمره او بالكل بى شعوره وو، څو ورځى وروسته مړسو، نوپر دغه هلك به جنازه كول كيږى او دمسلمانانو په قبرستان كى به دفن كيږى اوكه نه؟

جواب: دفقه دقاعدى موافق به دغه ماشوم كافر ګڼل كيږى ځكه چي دماشوم دمسلمان ګڼلو دپاره يا اسلام داحد الابوين شرط يا تبعيت ياپخپله ددغه ماشوم په حالت دشعور اوتميز اسلام راوړل اوكله چي په دى وجوهوكى يوه هم نسته، نودفقهى دقواعدو مطابق دغه ماشوم به مسلمان نه ګڼل كيږى. كذا فى الدر المختار (١).

لسم فصل: **دشهيد په احكامو كى**

په ناجوړى كى وفات سوى شهيددى اوكه نه؟ **سوال**: (٢٢١٠) خورشيد خان زوى درحمان خان په قوم پښتون په معمولى ناجوړى كى وفات سو، دپلار رحمان خان عمر يي تقريبا يوسل شپاړس (١١٢) كاله وو، دخورشيد خان ښځه چي دهغې نوى نكاح درحمان خان دبل زوى سره سوى وه، رحمان خان يي تېر ايستى، اويوه نويشت نامه په طور دوقف اراضى باغ موضع نورپور پرګنه ديوبند، ددى مضمون ورباندى وليكى چي دباغ مذكور په كم كى چي اقرار دخورشيدخان دى ددى خرڅ مى درنها دپاره وقف كى، ددى دګټى څخه به درنها خرچه وغيره كيږى اودخپل ځان څخه وروسته متولى يي خپل لمسى كى، اوس سوال دادى چي په معمولى ناجوړى كى وفات كيدونكى ته شهيد وايي اوكه نه؟ اوپه خورشيدخان باندى په حالت موجوده دشاهدى دلفظ اطلاق كيدى سى اوكه نه؟ اوپه قبرباندى درنها كول جائزدى اوكه نه؟

جواب: په معمولى ناجوړى كى مړسوى ته شهيد نه ويل كيږى اوپه هغه باندى دشاهدى حكم نه لګول كيږى (٢)، اوقبر كه دشهيد وى اوكه دغيرِ شهيد كه دولى وى اوكه

---

(١). كصبى سبى معى احد ابويه لايصلى عليه لانه تبع له اى فى احكام الدنيا الخ وان سبى بدونه فهو مسلم تباع للدار اوللسابى اوبه فاسلم اواسلم الصبى وهو عاقل اى ابن سبع سنين صلى عليه (الدر المختار على هامش رد المحتار باب صلاة الجنائز قبيل مطلب حمل الميت ج١ ص ٨٣١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٨). ظفير

(٢). ثم الاحسن فى تعريف الشهيد الحكمى على قول ابى حنيفه رحمه الله انه مسلم مكلف طاهر علم انه قتل ظلما قتلاً لم يجب به مالا ولم يرتث (غنية المستملى ص **٥٥٥**). ظفير

دعاصی وی، مروجه رڼا کول پرداسی قبر باندی درسته نه ده (۱)، اوپه وقف کی چونکی داوی چی بالآخره دهغه مصارف فقیران وی ددی وجه داوقف صحیح سو، اوکم متولی چی رحمان دځان څخه وروسته جوړکی هغه متولی سو اومتولی به اوسی. فقط

حضور ﷺ ته سید الشهداء ویل درست دی اوکه نه؟ اودهغوی ﷺ حیات دشهیدانو دحیات څخه زیات دی اوکه نه؟ **سوال**: (۳۲۱۱) حضرت رسول اکرم ﷺ سید الشهداء دی اوکه نه؟ بل داچی دشهیدانو په باره کی چی په قرآن کریم کی راغلی دی چی دوی ته مړه مه وایاست نوآیا دغه حیات صرف ترشهیدانو پوری مخصوص دی اوکه نه؟ اوحضور ﷺ په دغه حیات کی دشهیدانو څخه افضل دی اوکه نه؟

جواب: حضور ﷺ افضل الانبیاء والمرسلین دی اوکله چی حضور ﷺ دټولو انبیاء څخه هم ښه دی نودټولو صدیقینو اودشهیدانو څخه هم ښه دی اودهغوی سردار دی په دی کی دتردد اودشك څه ځای نسته کما قیل:

بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر [جامی[۳]]

لیکن په ښکاره حضور ﷺ شهید سوی نه دی چی دسید الشهداء لفظ دهغه ﷺ دپاره استعمال سی.

حضور ﷺ حضرت حمزه ﷺ ته کله چی هغه شهید سوی وو نو دسید الشهداء لقب یی ورته عطاء فرمایلی وو، کما وردفی الاحادیث المبارکة (۲)، نوستاسی داسی سوال دعلم اوتدبر پرکموالی باندی مبنی دی، داسی سوال کول نه دی په کار، اودانبیاء علیهم السلام حیات خاص کر دحضور ﷺ حیات دشهیدانو دحیات څخه افضل او اعلی دی او ددی بحث اوږد دی (۳). فقط

حکمی شاهدی: **سوال**: (۳۲۱۲\۱) زید مسلمان سید دلمانځه او دروژی پایبنده، دیندار خو غریب سړی وو اوپه چنګی کی دمیاشتنی کارګر محرر دپوند وو، هغه دنمونیه په مرض کی شپږ ورځی دسفر اویوازی والی په حالت کی دناجوړی څخه وروسته وفات سو داسی مرګ ته به دغریب مرګ ویل کیږی؟ اوزید شهیدمړسو اوکه نه؟ الغربة شهادة.

ابن ماجه

---

(۱). وما یؤخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا الیهم فهو بالاجماع باطل وحرام (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی النذر الذی یقع للاموات ج۴ ص ۱۷۵ ، ط. س. ج۴ ص ۴۳۹). ظفیر

(۲). عن علی؄ قال رسول الله ﷺ سید الشهداء حمزة ابن عبد المطلب (فتح الباری تحت باب قتل حمزة بن عبد المطلب ج۱ ص ۴۸۲). ظفیر

(۳). نبی الله حی یرزق، رواه ابن ماجه (مشکوة باب الجمعة فصل ثالث). ظفیر

دمړی دپاره دژوندی کیدلو دعاء: سوال: (۳۲۱۳۲) زید وفات سو، دزید دورور داعقیده ده چې په دعاء کې ډیر لوی طاقت اولوی اثردی اوهغه حق تعالی ته دعاء کوی چې حق تعالی دي زید دوباره ژوندی کړی، اوهغه دي دعزیزانو اودخپلوانو سره رایوځای سی، دزید دورور داخیال صحیح دی اوکه نه؟

جواب: ۱۱: په دی صورة کې ان شآء الله تعالی مصداق دحدیث شریف، موت الغربة شهادة، دی اوحکمی شهادت زید ته حاصل ([1]) دی.

۲۱: دزید دورور داخیال صحیح نه دی، اوهغه لره داسی دعاء کول نه دی په کار، ځنګه چې په صحیح حدیث شریف کې وارد دی چې شهیدان به دالله ﷻ څخه ددی تمنٰی کوی چې بیا ژوندی سی اودنیاته ولاړسی اوبیا دالله ﷻ په لاره کې ووژل سی، نوالله ﷻ به ورته وفرمایي چې دانه سی کیدی ځوك چې مړسو هغه بیا دنیاته واپس نه لیږل کیږی ؒ.

چې په اوبوکې ډوب سی یاپه جهاد کې یادهیضې اودطاعون په مرض کې نوڅه حکم یې دی؟ سوال: (۳۲۱۴) شهید یعنی چې ځوك په اوبو کې ډوبیدلو سره وفات سی، یاپه جهاد کې، یادهیضې اودطاعون په مرض کې مړسی نوهغه لره غسل اوکفن ورکول کیږی اوکه نه؟

جواب: ځوك چې په اوبوکې ډوب سی اومړسی نوهغه حکماً شهید دی، هغه ته غسل او کفن ورکول په کاردی، اوکم چې شهید فی سبیل الله دی چې حقیقی شهیددی هغه لره دفقهاؤ دشرائطو موافق غسل اوکفن نسته ([2]).

یوه پاګل یوه ښځه په کړایی باندی په ویشتلو سره شهیده کړه نوهغې ته به غسل ورکول کیږی اوکه نه؟ سوال: (۳۲۱۵) یولیونی خپله ښځه په کړایی باندی پرسر وویشتله دهغې سرمات سو اومړه سوه نودغه ښځی لره غسل ورکول پکاردی اوکه نه؟

جواب: دغه ښځه شهیده ده هغې لره دي غسل نه ورکول کیږی، بغیر دغسله دي وربانّدی جنازه وکړی اوښخه دي سی. لحدیث زملوهم بکلومهم ودمائهم رواه احمد، شامی ([3]).

---

[1]. فالمرتث شهید الاخیرة وکذا الجنب الخ والغریق والحریق والغریب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الشهید ج١ ص ٨٥٢، ط. س. ج٢ ص ٢٥٢). ظفیر

[2]. فینزع عنه ما لا یصلح للکفن، ویزاد إن نقص ؒ وینقص إن زاد لأجل أن یتم کفنه المسنون ویصلی علیه بلا غسل ویدفن بدمه وثیابه ؒ وکل ذلك في الشهید الکامل، وإلا فالمرتث شهید الآخرة، وکذا الجنب ونحوه، ومن قصد العدو فأصاب نفسه، والغریق والحریق والغریب والمهدوم علیه والمبطون والمطعون ؒ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الشهید ج١ ص ٨٥١ – ٨٥٢). ظفیر

[3]. ویصلی علیه بلاغسل ویدفن بدمه وثیابه لحدیث زملوهم بکلومهم (درمختار) بقوله ﷺ فی شهداء احد زملوهم بکلومهم ودمائهم (رواه احمد کذافی شرح المنیة، ردالمحتار باب الشهید ج١ ص ٨٥١). ظفیر

ځوک چې تردیوال لاندې په ګیریدلو سره مړسې هغه لره به غسل ورکول کیږي: سوال: (٣٢١٦) یوه مسلمانه ښځه دحیض اودنفاس څخه پاکه غسل یې کړی وو دآتش بازی اسباب یې په میچنه کې میده کوی، په هغه کې اور ولګیدی کور راونړیدی ددې حادثې څخه ځومنته مخکې ځلور سړې د: خدام خلافت نومې په نهر کې لمبیدلي وه، اودغه کورته راغلي وه، دغه پنځه واړه کسان لاندې ګیر سوه اومړه سول، بغیر دغسل څخه هغوی ښخ سول لیکن دمغفرت دعاء او جنازه یې وسوه.

جواب: حریق اوغریق اوپرچا باندې چې دیوال راونړیږي اومړ سی نودا ټول داخرت شهیدان دی دوی لره غسل ورکول لازم دی، اوکه چیرې ممکن نه وه نوتیمم ورکول په کاروو اودغسل څخه بغیر په دفن کولو سره په دې حالت کې دهغوی دپاره حکم داوو چې دددفن کولو څخه وروسته دوباره دجنازې لمونځ پرقبر باندې سوی وای، ځکه چې کم لمونځ دغسل څخه بغیر وسو هغه لمونځ معتبر نه سو دددفن کولو څخه وروسته چونکې غسل متعذرسو په دې وجه غسل ساقط سو، لهذا لمونځ دوباره دهغوی پرقبرونو باندې کول په کاروو، لیکن پرقبرباندې دلمانځه داحکم دمړې دچاودلو څخه مخکې مخکې وو چې دهغه اندازه دبعضو په نزد درې ورځې ده اواصح عدم تقدیر دی په وجه داختلاف دوخت دتفسخ دازمنه اوامکنه وغیره داختلاف په وجې سره (یعنی دموسمونو اودعلاقو په اعتبار سره دمړې دخرابیدلو موده اووخت مختلف کیږي. ژباړن) په درمختارکې دی، وان دفن واهیل علیه التراب بغیر صلوة اوبها بلا غسل صلی علی قبره استحسانا مالم یغلب علی الظن تفسخه من غیر تقدیر وهو الاصح (در) لانه یختلف باختلاف الاوقات حرًّا وبردًا والمیت سمنًا وهزالاً والامکنة، بحر وقیل یقدر بثلاثة ایام الخ ([1])، وفی باب الشهید من الدرالمختار وکل ذلك فی الشهید الکامل ؒ قوله: فی الشهید الکامل: وهو شهید الدین والآخرة، وشهادة بعدم الغسل الا لنجاسة اصابته غیر دمه وشهادة الآخرة بنیل الثواب الموعود للشهید ؒ شامی ([2])، ددې څخه معلومه سوه چې داخرت شهیدته به ثواب موعود په اخرت کې حاصلیږي اوپه دنیا کې به هغه ته حکم دشهید دعدمِ غسل وغیره په باره کې نه ورکول کیږي.

کم مړې چې زخمي وي هغه لره دغسل ورکول څنګه دي؟ سوال: (٣٢١٧) دکم مړي په بدن کې چې دقتل په وجه زخمونه وي هغه ته غسل ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیرې هغه په ظلم وژل سوی وي ، نو هغه شهید دی هغه لره به غسل نه ورکول

([1]). ردالمحتار باب صلاة الجنائز ج١ ص ٨٢٢ – ٨٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٤. ظفیر

([2]). ردالمحتار باب الشهید ج١ ص ٨٥٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٥٠ و٢٥١. ظفیر

کیږی اوجنازه یی کول په کاردی (۱). فقط

چی غلو وژلی وی نو هغه شهید دی اوکه نه؟ سوال: (۳۲۱۸) یوسړی دخپل کار دپاره کلی ته تلی، په لاره کی غلو ووژی، دی مسلمان دی ده ته به شهید ویل کیږی اوکه نه؟ او دغسل او دجنازی دلمانځه په باره کی څه حکم دی؟

جواب: دغه سړی شهید دی، غسل دی نه ورکول کیږی اولمونځ دي باندی وسی، ویصلی علیه بلا غسل ویدفن بدمه وثیابه الخ، (۲) درمختار

منکر اونکیر به دکمو خلکو څخه پوښتنه نه کوی؟ سوال: (۳۲۱۹\۱) دشهادتِ صغرٰی پیدا کونکی شهیدانو څخه به دمنکر اودنکیر پوښتنه کیږی اوکه نه؟

داخروی شهادت پیدا کونکی بدن خرابیږی اوکه نه؟ سوال: (۳۲۲۰\۲) دشهادت صغرٰی پیداکونکو شهیدانو بدنونه به په قبرکی سخا کیږی اوذره ذره کیږی به اوکه نه؟

دحقیقی شهید دبدن په باره کی څه حکم دی؟ سوال: (۳۲۲۱\۳) دشهادت کبرٰی دپیدا کوونکو دبدنونو په باره کی څه حکم دی؟

جواب: ۱\: په شامی کی منقول دی داتو (قسمه) کسانو څخه به دمنکر نکیر پوښتنه نه کیږی چی په هغوی کی یوشهید دی اوپه طاعون کی مړ سوی اومرابط وغیره (۳).

۲\، ۳: دانبیاء کرامو په باره کی په حدیث شریف کی راغلی دی، ان الله حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیاء، باقی دانبیاؤ څخه علاوه دنورو په باره کی داسی وارد نه دی. فقط

دکافرانو دشرارت په بندولو کی چی کم مسلمانان ووژل سی هغوی شهیدان دی اوکه نه؟

سوال: (۳۲۲۲\۱) په دی وخت کی کافران په هندوستان کی مسلمانان ذلیله کول او اسلام ختمول غواړی او دمسلمانانو په مذهبی کارونو کی مداخلت کوی، نوکه چیری مسلمانان دهغوی دشرارت په بندولو کی قتل سی نوهغوی به شهیدان وی اوکه نه؟

په محرم اوپه عرس کی که دهندوانو په حملی سره مسلمانان مړه سی نو دهغوی څه حکم دی؟ سوال: (۳۲۲۳\۲) په محرم اوپه عرس کی یاپه میله وغیره کی که چیری هندوان حمله وکړی اومسلمانان مړه سی نوڅه حکم یی دی؟

---

(۱). الشهید هوکل مکلف مسلم طاهر قتل ظلما ولم یجب بنفس القتل مال والی قوله ویصلی علیه بلا غسل ویدفن بدمه وثیابه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص ۸۵۱ ، ط. س. ج۲ ص۲۴۷). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص ۸۵۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۵۰. ظفیر

(۳). ذکر أن من لا یسأل ثمانیة: الشهید، والمرابط، والمطعون والمیت زمن الطاعون بغیره إذا کان صابرا محتسبا، والصدیق، والاطفال، والمیت یوم الجمعة أو لیلتها، والقارئ کل لیلة تبارك الملك ﷺ (ردالمحتار باب صلاة الجنائز مطلب ثمانیة لایسئلون فی قبورهم ج۱ ص ۷۹۷ – ۷۹۸ ، ط. س. ج۲ ص ۱۹۲). ظفیر

که هندوانو په پټه توګه مسلمانان ووژل نوهغوی شهیدان دی اوکه نه؟ سوال: (٣٢٢٤\٣) که چیری هندوان په پټه طریقه سره حمله وکړی یاپر کوټو باندی راوخیژی اونقصان ورسوی اومسلمانان ووژل سی نوڅه حکم یی دی؟

جواب: ١\١، ٢، ٣: په دی ټولو صورتونوکی چی کم مسلمانان ووژل سی هغوی به شهیدان وی ځکه چی کم مسلمانان په ظلم سره دکافرانو دلاسه ووژل سی نوهغه شهیدوی ([1]).

اولیاء الله دمرګ څخه وروسته ژوندی وی اوکه نه؟ سوال: (٣٢٢٥) حضرات اولیاء الله دوصال څخه وروسته ژوندی وی اوکه نه؟ په هر صورة دلیل څه دی؟

جواب: وبالله التوفیق ټول (انسانان) مړه کیدونکی دی، انك میت وانهم میتون، کم چی مسلم دی، بیاپه هم دغه حیات روحانی کی درجات دی، چی دانبیاء علیهم السلام حیات قوی تردی، دهغه څخه وروسته دشهیدانو بیا دټولو مومنانو سړیو اودښځو مومنانو درجه په درجه. اونصوص صرف دانبیاء علیهم السلام اودشهیدانو په حیات کی وارد دی. په حدیث شریف کی دی، ان الله حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیاء فنبی الله حی یرزق ([2])، الحدیث، اوکما قال ﷺ، اودشهیدانوپه باره کی په قرآن کریم کی دی، ولاتحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتًا بل احیاء عند ربهم یرزقون فرحین بما اتاهم الله من فضله ([3])، الایه، نو ددی قسم تصریح داولیاء الله دلفظ سره وارد کیدل راته یادنه دی، لیکن کله چی دشهیدانو دپاره دحیات تصریح ده اوشهیدان هم اولیاء الله دی، نوپه دی وجه سره ویلی سو چی داولیاء الله دپاره به هم تصریح دحیات وی یاداسی دی وویل سی چی کله دشهیدانو دپاره دحیات تصریح ده نوچونکی اولیاء الله هم دشهیدانو په حکم کی دی، بلکی بعضی اولیاء الله دشهیدانو څخه په اعلی مرتبی سره دی لکه صدیقین چی دا داولیاء الله یوجماعت دی اودشهیدانو څخه ښه دی، کما قال الله تعالی اولئك مع الذین انعم الله علیهم من النبیین والصدیقین والشهداء والصالحین، الآیة، په دی آیت کریمه کی دپیغمبرانو څخه وروسته اودشهیدانو څخه مخکی یی دصدیقینو ذکر فرمایلی دی په ښکاره دا ترتیب مقتضی دښه والی دصدیقینو دی پرشهیدانو باندی، ددی وجه د اولیاء الله دپاره هم دغه خاص حیات علی حسب المراتب ثابت دی. فقط

([1]). هوكل مكلف مسلم طاهر الخ قتل ظلم بغير حق بجارحة الخ وكذا يكون شهيدا لوقتله باغ اوحربي اوقاطع طريق ولو تسبباً اوبغير آلة جارحة فان مقتولهم شهيدا ؒ (الدرالمختار علی هامش دالمحتار باب الشهيد ج١ ص ٨٤٨ ، ط. س. ج٢ ص ٢٤٧). ظفير

([2]). اوحيات روحانی ټولو ته حاصل دی ځكه چی مدار دثواب اوعتاب پرحيات روحانی باندی دی. ظفير

([3]). سورة آل عمران.

دمرګ څخه وروسته داولیاؤ فیوض باقي وي: **سوال**: (۳۲۲۲) داولیاء الله تصرفات او د هغوی فیوضات اوانوار اوبرکات دوصال څخه وروسته هم موجود دی اوکه نه دظاهری مرګ څخه وروسته هغه ټول ختم سی؟

جواب: دهغوی فیوض اوبرکات دمرګ څخه وروسته باقی وی مثلاً داچی دهغوی په زیارت اوقرب سره زیارت کونکو ته برکات حاصل سی، اوپر هغوی باندی هم رحمت وارد سی ځکه چی کله دغه اولیاء درحمت الٰهی مورد دی نوکم سړی چی دهغوی زیارت کوی هغه به هم حسب المراتب دهغوی دبرکاتو څخه مستفیض کیږی، باقی داچی هغوی تصرفات کوی اوکه نه؟ هغوی ته څه اختیاروړکول سوی دی اوکه نه؟ نوپه دی کی عقیده صحیح ساتل لازم دی، په عالم کی تصرف کوونکی ماسوا دالله ﷻ وحده لا شریك له، څخه بل هیڅ څوك نسته، یوه ذره هم دهغه دحکم او دارادی څخه بغیر حرکت نسی کولی اوڅه چی حق تعالٰی دهریوه دپاره مقدر کړی دی هم هغه کیږی ددی خلاف هیڅ نسی کیدلی، دهغه په خدایی کی هیڅوك دهغه شریك نسته اوهیچا ته څه اختیار نسته.

تم الجزء الخامس من، فتاوٰی دارالعلوم دیوبند مدلل ومکمل، بعون الله تعالٰی وتوفیقه ویلیه الجزء السادس اوله کتاب الزکوٰۃ تحت اشراف حکیم الاسلام مولانا القاری الحافظ محمد طیب صاحب دامت فیوضه مدیر دار العلوم دیوبند علی ید العبد الجانی محمد ظفیر الدین المفتاحی. ۱۵ ربیع الأول سنة ۱۳۸۵ هـ. فالحمدلله رب العٰلمین والصلوٰۃ والسلام علٰی سیدالمرسلین وعلٰی اله وصحبه اجمعین.

پنځم ټوك دفتاوٰی دار العلوم دیوبند ختم سو.
الجمعة ، ۱۲ رمضان ، ۱۴۲۹ هـ ق.



النظم المستطاب لحكم القرآءة في صلاة الجنازة بأم الكتاب

﴿ للعلامة أبي الإخلاص حسن بن عمّار الشُّرُنبلالي الحنفي صاحب نور الإيضاح ﴾



النظم المستطاب لحكم القرآءة في صلاة الجنازة بأم الكتاب

﴿ للعلامة الفهامة الشيخ أبي الإخلاص حسن بن عمّار الشُّرُنبلالي الحنفي صاحب نور الإيضاح ﴾

المتوفى سنة ١٠٦٩ هـ

قَدَّم له وحقَّقه وعلَّق عليه

الحافظ المولوي الأستاذ محمّد أحمد الحقّاني الأفغاني

﴿ يُطبع للمرَّة الأولى من النسخة المخطوطة ﴾

المكتبة الحبيبية

بشارع كاسي، كوئته، باكستان

mha_haqqani@yahoo.com

الطبعة الأولى

١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م

Maktabah Habibiyah	مكتبة حبيبية
Publishing Organization	خپروونكې اداره
AL – AILM Computers	العلم كمپيوټرز

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارگ بازار کندهار ، افغانستان ، گرځنده تلیفون

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجد نور ، کوئټه ، تلیفون شمیره

AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمبیوترز، کوئټه پاکستان، گرځنده تلیفون شمیره

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين ، والعاقبة للمتقين ، والصلاة والسلام على رسوله خير خلقه محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين . أما بعد :

فأقدّم لكم هذه الرسالة المسماة بـ (النظم المستطاب) فى تفصيل حكم القراءة فى صلاة الجنازة بأمّ الكتاب ، للعلامة الشرنبلالى الحنفى رحمه الله تعالى ، وقد ظهر لى بعد الفراغ من مطالعة الرسالة أن خلاصة بحث المصنف رحمه الله كالتالى :

بيّن فى الأول حقيقة صلاة الجنازة مع شرآئطها وأدابها وماحولها ، ثم شرع فى أصل البحث ، وذهب إلى أن الأحاديث بالجملة تدل على أن قراءة الفاتحة فى صلاة الجنازة ثابتة من النبى صلى الله عليه وسلّم ، وإن لم تكن على سبيل الدّوام ، وردّ على من يعارض قوله هذا ، كالإمام ابن الهمام والعلامة ابن الضيا شارح المجمع وغيرهما ، وأيّد مذهب السادات الأحناف رحمهم الله تعالى فى المسئلة ، وهو أنّ قرائة الفاتحة فى صلاة الجنازة غير لازم ، وإن قرأ فغير مفسد ، وبه قال الإمام مالك رحمه الله ، خلافاً للإمام الشافعى والإمام أحمد رحمهما الله فإنهما يقولان بفرضية قرائتها ، وضمن هذه المباحث جمع الرسالة كثيراً من الفوائد العلمية والإشارات الخفيّة ، سيجدها القارئ عند القراءة .

وقبل البداية فى نصّ الكتاب أردت ان أكتب مقدمة وجيزة حول الرسالة ومصنِّفها ، وهى مشتملة على المبحثين التاليين :

المبحث الأول : الترجمة الوجيزة للمؤلف رحمه الله .

المبحث الثانى : البحث المختصر من النسخة المخطوطة ، ومنهجى فى تحقيق الرسالة .

والله سبحانه وتعالى نسئل أن يسدد أقلامنا وأقدامنا من الزلل والخطأ ، فى جميع أقوالنا وأعمالنا ، إنه على ما يشاء قدير ، وبالإجابة جدير .

وكتبه :

محمّد أحمد الحقّانى الأفغانى ، فى كوئتا ، باكستان

الأحد ، ٠٧ رمضان المبارك ، ١٤٢٩هـ

أولاً : الترجمة الوجيزة للمؤلِّف رحمه الله (١)

إسمه ونسبه :

هو الإمام العلامة ، الفقيه الحنفي ، أبو الإخلاص ، حسن بن عمَّار بن يوسف ، الوفائي ، المصري ، الشُّرُنْبلالي ، بضم الشين مع الراء ، وسكون النون ، وضم الباء الموحدة ، نسبة لـ شبرابلول على غير قياس (٢) ، والأصل شبرابلولى ، وهى بلدة تجاه منوف العليا بأقليم المنوفية بسواد مصر .

مولده ودراسته :

ولد سنة أربع وتسعين وتسعمائة هجرية (٩٩٤ هـ) ، قرأ فى صباه على الشيخ محمد الحموى ، والشيخ عبد الرحمٰن المسيرى ، وتفقه على عبد الله النحريري ، والعلامة محمد المحبي ، وسنده عن هذين الشيخين ، وعلى بن غانم المقدسي ، وغيرهم .

واشتغل عليه خلق كثير من المصريين والشاميين وغيرهم وانتفعوا به ، منهم العلامة أحمد العجمى ، والسيد السند أحمد الحموى ، والشيخ شاهين ، والعلامة إسماعيل النابلسى الدمشقى وغيرهم . ودرس بالأزهر الشريف ، وتقدم عند أرباب الدولة ، وألّف التآليف الكثيرة النافعة ، إلى أن توفي سنة تسع وستين بعد الألف (١٠٦٩ هـ) ، رحمه الله تعالى رحمة واسعة .

تصانيفه :

له مؤلفات كثيرة ، إن شئت تفصيلها فعليك بـ (طرب الأماثل بتراجم الأفاضل) للعلامة اللكنوى (٣) والمشهورة من مؤلفاتها :

---

(١) انظر ترجمته مفصلة في :

خلاصة الأثر ج ٢ ص ٣٨ – ٣٩ .

هدية العارفين ج ١ ص ٢٩٢ .

معجم المؤلفين ج ١ ص ٥٧٥ .

وقد رأيت الأخ الدكتور خالد بن محمد العروسى (حفظه الله) ، الأستاذ المساعد بكلية الشريعة بجامعة أم القرى ، بمكة المكرمة ، قد ترجم للمؤلِّف رحمه الله فى « مجلة جامعة أم القرى لعلوم الشريعة واللغة العربية وآدابها، ج ١٧، ع٣٢، ذو الحجة سنة ١٤٢٥ هـ » ص ٦٨٥ – ٦٨٧ .

(٢) صرّح بهذا المؤلف نفسه فى رسالته : در الكنوز لمن عمل بها بالسعادة يفوز ، ورقة (٢٢/أ) مع مجموعة رسائل المؤلف المخطوطة المسماة بـ « التحقيقات القدسية والنفحات الرحمانية » فى مركز البحث العلمى وإحياء التراث الإسلامى بجامعة أم القرى ، برقم (٥٩٨) ، وأصل النسخة موجودة فى المكتبة الأزهرية برقم (١٤٦) .

(٣) انظر : ص ٢٦٨ – ٢٧٠ ، ترجمة رقم = ١٢١ من طرب الأماثل .

١- نور الإيضاح ، في الفقه الحنفي صنفه إلى باب الإعتكاف .

٢- مراقى الفلاح ، الشرح المختصر لكتابه نور الإيضاح .

٣- إمداد الفتاح ، الشرح المفصل لنور الإيضاح .

٤- التحقيقات القدسية والنفحات الرومانية الحانية في مذهب السادة الحنفية ، وهو عبارة عن ستين رسالة فى المسائل والأبحاث المختلفة ، وواحد منها رسالتنا هذه المسماة بـ :

٥- النظم المستطاب لحكم القراءة فى صلاة الجنازة بأم الكتاب (١) ، ألفها سنة ١٠٦٥ هـ .

٦- تيسير المقاصد في عقد الفوائد في شرح منظومة ابن وهبان .

٧- غنية ذوي الأحكام وبغية درر الحكام ، شرح غرر الأحكام لمنلا خسرو .

٨- مرامي السعادة في علم الكلام.



ثانياً : الكلام حول النُّسْخَة المَخْطُوطة من الرِّسَالة

النسخة الميسّرة لنا مصوّرة من النسخة الموجودة فى المكتبة الأزهرية برقم = (٣٠٣٦٦٤) ، مشتملة على ست ورقات ، فى كل ورقة ٣١ سطرًا . مكتوبة بخط النسخ الواضح ، باللونان : الأسود والأحمر . وصورة الورقة الأولى منها مدرجة فى الصفحة الآتية .

منهج التَّحْقيق

- ✓ وضعنا بعض التعليقات المفيدة الموضحة فيما يحتاج القارئ إليه .
- ✓ خرّجنا الآيات ، وأيضا الأحاديث وفق المصادر المتوفرة بين أيدينا .
- ✓ ضبطنا النصّ ، ووضعنا الفواصل فى فقرات الكلام ، حسبما وُضّح لنا .
- ✓ قمنا بالتراجم الموجزة للأعلام الواردة فى الكتاب ، وتركنا التراجم للأعلام المشاهير .

نسئل الله سبحانه وتعالىٰ أن يجعل عملنا هذا خالصاً لوجهه الكريم ، ونافعاً للمسلمين ، وأن يدخره لنا فى الآخرة يوم الحساب ، إنه سميع قريب مجيب .

---

(١) وقد وقع عنوان الرسالة خطأً فى أول الرسالة المخطوطة هكذا : الحكم المستطاب بلفظ (الحكم) بدل لفظة (النظم) فلينبه ، حالما ذكر المصادر كلها هذه الرسالة بإسم (النظم المستطاب) بلا خلاف . (انظر صورة الورقة الأولىٰ فى الصفحة الآتية) ، وانظر : طرب الأماثل ص ٢٦٩ ، العمود ١ ، إيضاح المكنون ج ٢ ص ٦٦٠ .

الورقة الأولى من رسالة (النظم المستطاب) ، وليلاحظ ما كتب أولاً (هذه رسالة الحكم المستطاب الخ) غلط

بسم الله الرَّحْمن الرحيم

[مقدمة المصنّف رحمه الله :]

وبه الاعانة ، الحمد لله العلىّ العليم ، والشكر له على جزيل فضله العميم ، ونتوسل إليه بالمصطفى النبى الكريم ، صلى الله وسلم عليه وعلى سائر الأنبياء والمرسلين ، أن يمن بفضله وهو البرّ الرحيم، لبيان حكم قراءة الفاتحة فى صلاة الجنازة، ليطمئنّ به من وفق للسعادة وللسيادة، بالحيازة بالنظر لدليل النافى للقراءة والمثبت لها لزوما وخطيراً ، ويدرى سرّ ذلك من رقا إلى النهاية بمعراج الدراية فكان أدرى ، وبموجب ما ورد يعمل احتياطاً ليحرز به أجراً ، وقد قال النافى لجواز قراءة الفاتحة فيها : إن مراعاة الخلاف مستحبة ، نصّ على ذلك فى كثير من المسائل المختلف فيها ، فكراهة القراءة مع القول بافتراضها لمجتهد ينفيها نظر من كان فطيناً فقيهاً ، ونذكر انشاء الله تعالى أمثلة منها لتزداد بها تنبيهاً .

قال جامعها الفقير حسن الشُّرُنْبلالى بلغه أحسن المعالى سميتها [النظم المستطاب لحكم القراءة فى صلاة الجنازة بأمّ الكتاب] ونقدم الكلام على حقيقة صلاة الجنازة على مذهب الامام الأعظم ، ونستطرد مذهب غيره بالدليل لكل على حسب تيسير العلى العظيم .

واعلم ان كل طالب عليه إمعان النظر ليصل به إلى أجلّ مقام كريم ، وما قصر عنه فهم المراد منه وإدراكه ، كان عليه التسليم والرجوع لمن هو أدرى ، وفوق كل ذى علم عليم [يوسف: ٧٦] ، والغاية المطلوبة بعد التعلم والتعليم ، القيام بما كلف به امتثالاً للأمر ورجاً للفوز بجنات النعيم ، وليس لمقلد إلا الإتباع والتفويض لإمامه وحسن إعتقاده فيه بترجيح إجتهاده فى أحكامه .

ولم أر نصا صريحاً مسنداً إلى الإمام فى كراهة قراءة الفاتحة وصلاة الجنازة ، غاية ما رأيته فى المبسوط وغيره : ولا يقرأ فى صلاة الجنازة بشيء من القرآن ، وذكر الشارح مقابلته بإفتراض الفاتحة عند الإمام الشافعى ، فاقتضى نفى اللزوم لا نفى الجواز وسنبينه إنشاء الله تعالى .

فاعلم أن حقيقة صلاة الجنازة (١) التكبيرات الأربع وهى أركانها والقيام والتكبيرة الأولى لها شبه بالتحريمة للدخول فى الصلاة والركنية لقيامها مقام ركعة ، والنية شرط ، وسننها الثناء فى الأولى ، والصلاة على النبى ﷺ فى الثانية ، والدعاء للميت البالغ العاقل بالمغفرة ولولى الصغير والمجنون فى

(١) انظر : رد المحتار الشهير بحاشية ابن عابدين على الدر المختار ج١ ص٦٤٠ ومابعدها ، الهداية بشرح البناية للعينى ج٣ ص٢٠٨ ، فتح القدير لابن الهمام ج٢ ص٨٠ ، إمداد الفتاح شرح نور الإيضاح كلاهما للمصنِّف، ص٦١٦.

الثالثة ، وقيام الإمام بحذاء الصدر وترتيب الوضع فى الصلاة على جمع .

وشرآئطها : إسلام الميت ولو بالتبعية ، وغسله أو تيممه لعذر قبل دفنه ، وبعده يصلى بدونه على قبره ما لم ينفسخ ، ولا يشترط طهارة سريره ، ويشترط تقدمه وحضوره ، أو حضور أكثر بدنه ، أو نصفه مع رأسه ، ووضعه على الأرض كالصّلاة عليه ، إلا لعذر .

وأدابها : منها المشى خلفها ، والتأخر عنها بغير بعيد، والإتعاظ بها، والسكوت عن صوت بقراءة ، أو ذكر ، والإسراع بها ، وبتجهيزها بعد تيقن موتها بنحو تغير ، لإحتمال غشى ، ويكره رفع الصوت بقراءة وذكر ، ويذكر فى نفسه ، ولا يمشى عن يمينها ولا يسارها ، ولا يجلس قبل وضعها ، ولا يرجع بدون تعزية وليّها واستيذانه ولو دلالة ، وقبل دفنه إلاّ لعذر .

روى الكمال ابن الهمام رحمه الله تعالى (١) : قال النبى صلى الله عليه وسلَّم : « من عزى أخاه بمصيبة كساه الله من حلل الكرامة يوم القيامة » (٢) ، وقال النبى صلى الله عليه وسلَّم : « من عزى مصابا فله مثل اجره » (٣) ، وقال صلى الله عليه وسلَّم: « من عزى ثكلى كُسِي بُرداً (٤) في الجنة ». (٥)

---

(١) هو إمام الحنفية ، محمد بن عبد الواحد بن عبد الحميد إبن مسعود السيواسي الأصل ، الإسكندري ، ثم القاهري ، الحنفي ، المعروف بإبن الهمام (كمال الدين) إمام مشارك في الفقه والأصول والتفسير والحديث وأصوله وعلم الطبيعة والفرائض والحساب والتصوف والنحو والصرف والمعاني وغير ذلك .

ولد بالإسكندرية سنة ٧٩٠ ظنا ، وفي رواية ٧٨٨ ، أو ٧٨٩ هـ ، وقدم القاهرة ، ورحل إلى حلب وأقام بها مدة ، وجاور بالحرمين ، ثم كان شيخ الشيوخ بالخانقاه الشيخونية بمصر ، وكان معظما عند الملوك وأرباب الدولة ، وتوفي بالقاهرة في رمضان سنة ٨٦١ هـ .

من تصانيفه: شرح الهداية في فروع الفقه الحنفي وسماه فتح القدير للعاجز الفقير ، وصل فيه إلى أثناء الوكالة ، مختصر الرسالة القدسية بأدلتها البرهانية للغزالي ، المسايرة في العقائد المنجية في الآخرة ، التحرير في أصول الفقه ، وشرح بديع النظام الجامع بين كتابي البزدوي والأحكام لابن الساعاتى . وكُرّاسة فى إعراب سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم ، وله مختصر فى الفقه سمَّاه زاد الفقير .

أنظر ترجمته فى:

شذرات الذهب ج ٩ ص ٤٣٧ – ٤٣٩ ، معجم المؤلفين ج ٣ ص ٤٦٩ – ٤٧٠ .

(٢) لم أجده بهذا اللفظ ، وروى ابن ماجة برقم = ١٦٠١ ما يقاربه معنًى ، وانفرد به ، ولفظه : ما من مؤمن يعزي أخاه بمصيبة إلا كساه الله سبحانه من حلل الكرامة يوم القيامة .

(٣) رواه بهذا اللفظ الترمذى فى الجنائز رقم = ١٠٧٣ ، وابن ماجة أيضا فى ما جاء فى الجنائز رقم = ١٦٠٢ .

(٤) وقع فى المخطوطة (بردين) وهو تحريف واضح ، والصحيح الموجود فى الأحاديث ما أثبتناه .

(٥) أخرجه الترمذى بهذا اللفظ عن أبى برزة ، وانفرد به ، رقم= ١٠٧٦، وقال: هذا حديثٌ غريبٌ وليس إسناده بالقوىّ.

وفى الحديث (١) ما معناه : « أول ما يتحف به المؤمن الغفران لمن صلى عليه (٢) ، وللمصلى على الجنازة قيراط من الأجر ، وإن حضر دفنه كان له قيراطان كل مثل أُحُد (٣) ، ومن حمل جنازة أربعين خطوة كفرت عنه أربعين كبيرة » (٤) .

وباقى أحكامها مسطور فى كتب المذهب ، ولنرجع لما نحن بصدده من أمر قراءة الفاتحة فيها ، فعند الإمام الشافعى والإمام أحمد بن حنبل رحمهما الله تفترض الفاتحة والصلاة على النبى صلى الله عليه وسلَّم والدعاء .

ودار الأمر بين النص على عدم جواز القراءة والنص على كراهتها فى كلام أئمتنا ، وقد نصوا على استحباب مراعات الخلاف فى كثير من المسائل ، ولم أرَ نصاً قاطعاً للمنع مقتضياً لعدم جواز قراءة الفاتحة فى الجنازة .

ولم يتعرض فى الهداية (٥) ومن تبعها (٦) للقراءة لا نفياً ولا إثباتاً إلا بالإشارة ، وكذا لم يتعرض

---

(١) هذا هو إقتباس بالمعنى من الأحاديث المتعددة ، سيأتى تخريجها .

(٢) جاء بمعناه الدارقطنى في الافراد عن ابن عباس: إن أول ما يتحف به المؤمن إذا دخل قبره أن يغفر لمن صلى عليه ، انظر : كنز العمال ج ١٥ ص ٥٩٥ ، رقم = ٤٢٣٥٣ .

(٣) لم أجده بهذا اللفظ ، وفى البخارى ما بمعناه : عن أبى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم « من شهد الجنازة حتى يصلي فله قيراط ، ومن شهد حتى تدفن كان له قيراطان ، قيل وما القيراطان ؟ قال مثل الجبلين العظيمين » . رقم = ١٣٢٥ ، وهكذا فى مسلم رقم = ٩٤٥ ، وهكذا فى الترمذى رقم = ١٠٤٠ ، وسنن أبى داؤد رقم = ١٦٠٣ ، وابن ماجة رقم = ١٥٣٩ ، واخرجه ايضا عن ثوبان رقم = ١٥٤٠ ، وأحمد فى مسنده رقم = ٩١٨٠ .

(٤) وجدت ما يقاربه معنىً فى المعجم الأوسط للطبرانى رقم = ٥٩٢٠ : عن أنس بن مالك قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من حمل جوانب السرير الأربع كفر الله عنه أربعين كبيرة. وقال فيه الطبراني : لا يُروى هذا الحديث عن انس بن مالك الا بهذا الاسناد ، تفرّد به على بن أبى سارة ، ولم يروه عن النبي ﷺ الا انس بن مالك . آهـ وذكره في كنز العمال ج ١٥ ص ٥٩٨ .

(٥) صاحب الهداية هو الإمام علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني ، الحنفي (برهان الدين ، أبو الحسن) فقيه ، فرضي ، محدث ، حافظ ، مفسر . توفى سنة ٥٩٣ هـ .

قال اللكنوى : كان إماماً ، فقيهاً ، حافظاً ، محدثاً ، مفسراً ، جامعاً للعلوم ، ضابطاً للفنون ، متقناً ، محققاً ، نظاراً ، مدققاً ، زاهداً ، ورعاً ، بارعاً ، فاضلاً ، ماهراً ، أصولياً ، أديباً ، شاعراً ، لم تر العيون مثله فى العلم والأدب ، وله اليد الباسطة فى الخلاف ، والباع الممتد فى المذهب . إنتهىٰ

من تصانيفه : شرح الجامع الكبير للشيباني ، بداية المبتدي ، الهداية ، وكفاية المنتهي شرحى بداية المبتدى ، التجنيس والمزيد ، ومختار الفتاوى. =

لها صاحب العناية ([١]) الشيخ الأجل الأكمل أكمل الدين ([٢]) وكذلك [الإمام] الهمام فخر الدين الزيلعى ([٣]) شارح الكنز ([٤]) واضرابهم ، وقال فى الإختيار ([٥]) ولو قرأ الفاتحة بنية الدعاء لا بأس به ، أما بنية التلاوة فمكروه . إنتهٰى

انظر ترجمته فى : سير أعلام النبلاء للذهبى ج ٢١ ص ٢٣٢ ، الفوائد البهية ص ١٤١ – ١٤٤ ، معجم المؤلفين ج ٢ ص ٤١١ .

([٢]) انظر : الهداية بشرح البناية للإمام بدر الدين العينى الحنفى ج ٣ ص ٢١٦ .

([١]) انظر : العناية فى شرح الهداية على هامش فتح القدير والكفاية ج ٢ ص ٨٥ .

([٢]) صاحب العناية هو الإمام الهمّام ، البحر القمقام ، العلاَّمة محمد بن محمد بن محمود بن أحمد البابرتي ، الرومي ، الحنفي ، أكمل الدين، فقيه ، أصولي ، فرضي ، متكلم ، مفسر ، محدث ، نحوي ، بياني .

قال اللكنوى فى الفوائد ص ١٩٥ : إمام ، محقق ، مدقق ، متبحر ، حافظ ، ضابط ، لم تر الأعين فى وقته مثله ، كان بارعا فى الحديث وعلومه ، ذا عناية باللغة ، والنحو ، والصرف ، والمعانى ، والبيان وغيرها .

ولد سنة بضع عشرة وسبعمائة ، ورحل إلى حلب فأقام بها مدة ، ثم قدم القاهرة ، وكان أرباب المناصب يعظمونه ، وتوفي بمصر في ١٩ رمضان سنة ٧٨٦ هـ ، وحضر السلطان فما دونه جنازته .

من تصانيفه الكثيرة : العناية في شرح الهداية في فروع الفقه الحنفي ، السراجية في الفرائض ، حاشية على الكشاف للزمخشري في التفسير ، شرح مشارق الأنوار النبوية من صحاح الأخبار المصطفوية للصغاني وسماه تحفة الأبرار في شرح مشارق الأنوار ، وشرح الفقه الأكبر المنسوب للإمام أبي حنيفة ﵁ ، النكت الظريفة فى ترجيح مذهب الإمام أبى حنيفة .

أنظر ترجمته فى : الفوائد البهية ص ١٩٥ – ١٩٩ ، معجم المؤلفين ج ٣ ص ٦٩١ ، شذرات الذهب ج ٨ ص ٥٠٤ – ٥٠٥ ، إنباء الغمر بأنباء العمر ج ١ ص ٢٩٨ . مقدمة المحقق فى رسالة المؤلف (النكت الظريفة فى ترجيح مذهب الإمام أبى حنيفة) ص ٦ – ٧ ، وقد طبع هذه الرسالة بتحقيقى ، ولله الحمد والمنة .

([٣]) هو الإمام عثمان بن علي الزيلعي ، فخر الدين الحنفى . قدم القاهرة ، وتوفي بها في رمضان سنة ٧٤٣ هـ .

من تصانيفه : شرح كنز الدقائق وسماه بتبيين الحقائق في عدة مجلدات ، شرح الجامع الكبير للشيباني ، شرح المختار للموصلي، وبركة الكلام على أحاديث الأحكام الواقعة في الهداية وسائر الكتب .

أنظر ترجمته فى : الفوائد البهية ص ١١٥ – ١١٦ ، معجم المؤلفين ج ٢ ص ٣٦٥ وص ٥٨٦ .

([٤]) انظر : تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج ١ ص ٢٤٠ – ٢٤١ .

([٥]) أى فى كتاب (الإختيار لتعليل المختار) ، وهو تصنيف الإمام عبد الله بن محمود بن مودود ابن محمود، الموصلي مجد الدين، أبو الفضل، الفقيه الحنفى، ولد سنة ٥٩٩ وتوفي سنة ٦٨٣ ثلاث وثمانين وستمائة. له الاختيار شرح المختار. والمختار أيضاً تصنيفه، شرح الجامع الكبير للشيباني ، كتاب الفوائد ، وكلها فى الفقه الحنفى .

أنظر ترجمته فى : تاريخ الإسلام للإمام الذهبى ج ٥١ ص ١٤٥ – ١٤٦ ، الفوائد البهية ص ١٠٦ – ١٠٧ ، معجم المؤلفين ج ٢ ص ٢٩٥ – ٢٩٦ .

وفى المحيط ([١]) والتجنيس ([٢]) : لو قرأ الفاتحة بنية الدعاء فلا بأس به ، وإن قرأها بنية القراءة لا يجوز ، لأنها محل الدعاء دون القراءة . إنتهى ، وفى نفى الجواز بما ذكر تأمّل .

وفى معراج الدراية ([٣]) : ولا يقرأ الفاتحة وبه قال مالك ، وفى دعاء الإستفتاح للشافعى قولان : أحدهما : يسن كسائر الصلوات ، والثانى : لا يسن ، لأن هذه الصّلاة مبناها على التخفيف ، ولهذا لا ركوع فيها ولا سجود ولا قعود فيها ، وقراءة الفاتحة واجبة عنده ، وبه قال أحمد وداؤد .

لما روى جابر رضى الله عنه أنه عليه السّلام كان يقرأ فيها بأمّ القرآن ، وقرأ ابن عباس رضى الله عنهما الفاتحة وجهر بها ثم قال : عمداً فعلت ليعلم أنّه سنة ، ([٤]) وقال عليه الصلاة والسلام : صلوا كما رأيتمونى أصلى ، ولأنها صلاة وجب فيها القيام ، فيجب فيها القراءة كسائر الصلوات .

([١]) إذا ذكر فى كتب الفقه الحنفى كتاب (المحيط) فالأكثر على أن المراد به كتاب (المحيط البرهاني) للإمام برهان الدين ، محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مازه البخاري ، المتوفى سنة ٦١٦ هـ .
انظر : الفوائد البهية ١٨٩ – ١٩٠ – ١٩١ ، وص ٢٠٥ – ٢٠٧ ، الأعلام للزركلى ج ٧ ص ١٦١ ، معجم المؤلفين ج ٣ ص ٧٩٦ .

([٢]) التجنيس والمزيد ، كتاب فى الفقه الحنفى لصاحب الهداية ، وقد طبع ولله الحمد قبل سنوات قليلة بعناية من المحققين فى كراتشى ، باكستان .
انظر : الفوائد البهية ص ١٤١ ، معجم المؤلفين ج ٢ ص ٤١١ .

([٣]) معراج الدراية شرح للهداية للعلامة الكاكى رحمه الله . قال فى هدية العارفين ج ٢ ص ١٥٥ :
الكاكي : محمد بن محمد بن أحمد السنجاري ، قوام الدين ، الحنفي ، المعروف بالكاكي ، المتوفى سنة ٧٤٩ تسع وأربعين وسبعمائة . له من الكتب بنيان الوصول في شرح الأصول للبزدوي، جامع الأسرار في شرح المنار للنسفي في الأصول، عيون المذاهب في فروع الحنفية، الغاية في شرح الهداية للمرغناني، معراج الدراية في شرح الهداية للمرغناني، وغير ذلك. وقال على بن محمَّد بن الأثير الجزرى فى اللُّباب ج ١ ص ٤٥٨ :
السِّنجاري : بكسر السين المهملة وسكون النون وفتح الجيم ... ، هذه النسبة إلى مدينة سِنْجار ، وهى من بلاد الجزيرة ، ولد بها السلطان سنجر بن ملكشاه فسمى بإسم المدينة على عادة الأتراك . إنتهىٰ
قلت : لكن ذكر الياقوت فى وجه التسمية وجهاً آخراً ، قال فى المعجم ج ٣ ص ٢٦٢ ، عمود ١ :
ويقولون : إن سفينة نوح، عليه السلام، لما مرّت به نَطَحتْهُ ، فقال نوح : هذا سنُّ جبل جار علينا ، فسميت سنجار، ولستُ أحقّق هذا ، والله أعلم به ، إلا أن أهل المدينة يعرفون هذا صغيرهم وكبيرهم ويتداولونه . إنتهىٰ
انظر : الفوائد البهية ص ١٨٦ ، هدية العارفين ج ٢ ص ١٥٥ ، معجم المؤلفين ج ٣ ص ٦٢١ .

([٤]) أخرج البخاري في الجامع الصحيح - كتاب الجنائز - باب قراءة فاتحة الكتاب على الجنازة رقم = ١٣٣ وأبو داود في السنن - كتاب الجنائز - باب ما يقرأ على الجنازة رقم = ٣١٩٨. والترمذي في الجنائز من الجامع - باب ما جاء في القراءة على الجنازة بفاتحة الكتابة - رقم = ١٠٢٧ ، وقال حسن صحيح . والنسائي في المجتبى =

ولنا : قول ابن مسعود رضى الله عنه أنه عليه السلام لم يوقت لنا فى الصّلاة على الجنازة دعاء ولا قراءة (١) ، كبّر ما كبّر الإمام واختر من الدعاء أطيبه ، وهكذا روى عن عبد الرحمٰن بن عوف رضى الله عنه وابن عمر رضى الله عنهما ، فإنهما قالا ليس فيها قرآءة شيء من القرآن .

وتأويل حديث جابر رضى الله عنه أنه ﷺ كان قرأ على سبيل الثناء لا على وجه القراءة .

وعنده لو قرأ الفاتحة على سبيل الثناء والدعاء لا يكفيه ، وقال الترمذى حديث جابر رضى الله عنه وابن عباس رضى الله عنهما اسناده ليس بقوى ، ولأن هذه ليست بصلاة حقيقة ، وإنما هى دعاء واستغفار للميت ، ولهذا ليس فيها أركان الصلاة ، وسميت بالصلاة لما قلنا أن الصلاة لغةً الدعاء ، واشتراط الطهارة واستقبال القبلة فيها لا يدل على كونها صلاة حقيقة كسجدة التلاوة ، كذا فى المبسوط ، (٢) إنتهت عبارة الدراية .

وأقول : جميع ما استدركه به إنما يفيد نفى افتراض قراءة الفاتحة ، وأما الكراهة فليس فيه إفادة كراهتها ، بل يفيد سنية قرائتها .

أمّا استدلاله لنفى القرآءة بقول ابن مسعود رضى الله عنه فلا يفيده ، لأنه إنما نفى التوقيت وسنذكر

= - كتاب الجنائز - باب الدعاء (٤/ ٧٤ ، ٧٥) . والبيهقى فى السنن الكبرى (٤/ ٣٨ ، ٣٩) كلهم من حديث طلحة صليت خلف ابن عباس رضي الله عنهما على الجنازة فقرأ الكتاب ثم قال لتعلموا أنها سنة . ومن حديث ابن عباس أيضاً أن النبي صلى الله عليه وسلم قرأ على الجنازة بفاتحة الكتاب أخرجه الترمذي في الجامع - كتاب الجنائز - باب ما جاء في القراءة على الجنازة بفاتحة الكتاب رقم = ١٠٢٦. وابن ماجه في السنن - كتاب الجنائز - باب ما جاء في القراءة على الجنازة رقم = ١٤٩٥. وإسناده ضعيف. ومن حديث أم شريك قالت : أمرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم أن نقرأ على الجنازة بفاتحة الكتاب ، أخرجه ابن ماجه في السنن - كتاب الجنائز - رقم = ١٤٩٦. ومن حديث أم عفيف عن الطبراني في الكبير ، وكذا من حديث أسماء بنت يزيد ، راجع مجمع الزوائد للهيثمى (٣ / ٣٣) وعن أبي هريرة عند الطبراني في الأوسط - مجمع الزوائد - ومن حديث جابر عن الشافعي فى الأم (١/ ٢٣٦) والحاكم في المستدرك (١/ ٣٥٨). وفي أسانيدهم ضعف شديد. وغير ذلك.

تفصيل هذا التخريج ذكره المحقق فى التعليق على المبسوط للإمام السرخسى ، انظر : المبسوط (٢/ ١٠٢) .

(١) أخرج نحوه عبد الرزاق في المصنف رقم = (٦٤٣٦) وفي إسناده عثمان بن مطر وهو ضعيف ، لكن تابعه غيره عند ابن أبي شيبة في المصنف [(٧ / ٢٥٠) رقم = ١١٤٨٨] ، من حديث سعيد، وروى ابن أبي شيبة في المصنف نحوه من حديث جابر ، وفيه حجاج بن أرطاة وهو ضعيف وأبو الزبير وهو مدلس وقد عنعن. وعن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده عن ثلاثين من الصحابة نحوه. وكذا عن إبراهيم وعن الشعبي نحوه. فهذا كله يشهد بعضه لبعضه وإن كان لا يخلو أحدها من ضعف لكنه محتمل يقوى بعضه بعضاً .

(٢) انظر : المبسوط للإمام السرخسى رحمه الله (٢ / ١٠١) فما بعدها .

ان ابن مسعود رضى الله عنه قرأ فيها ، والراوى إذا فعل بخلاف ما روى .... ([1]) ، وهو ان لا يحتمل أن يكون مرادا من الخبر بوجه يسقط العمل به كما فى شرح المنار ، وعمله هنا لا يخالف ما رواه ، لأنه احتمل أن يكون مرادا من الخبر من وجه ، وهو هذا كذالك ، لأن فعله يحتمله مرويه وهو عدم التوقيت ، فثبت به جواز القراءة بل سنيتها ، فكيف يستدل به على نفى القراءة ؟

وأمّا ما رواه عن عبد الرحمٰن وابن عمر رضى الله عنهم ، فليس فيه نفى جواز القراءة ، فيحتمل أن يكون المنفى اللزوم لا الجواز .

وأمّا قوله : وتأويل حديث جابر رضى الله عنه ، فغير مسلم لأن التأويل بحمل القراءة على الثناء ، دعوىً لا دليل عليها ، لأن الثناء أمر مبطن لا يعلم إلا من الفاعل وهو الرسول صلى الله عليه وسلم ، والمتلوّ منه قرآن حقيقة لا يعدل عنها بدون صارف ، والسنية فعل الرسول صلى الله عليه وسلم ، فبهذا ثبت سنية قراءة الفاتحة لا نفى القراءة .

وأمّا قوله : وإنما هى دعاء واستغفار للميت ، الحصر غير مسلم ، لأنه لا يشترط للإستغفار والدعاء ما اشترط للصلاة على الميت ، ونفى الحقيقة نقول به ، لما أنها صلاة من وجه ، فيقرأ فيها لشبهها بالكاملة من وجه. ومما ينفى الحصر كيفية نيتها وهى أن ينوى الصلاة لله تعالى والدعاء للميت، فهى وإن لم تكن صلاة حقيقة كاملة فهى صلاة من وجه .

وأمّا قوله : ليس فيها أركان الصلاة ، المنفى كلّها لا بعضها ، فالقيام ركن اتفاقا ، والتحريمة فيها على اختيار الطحاوى رحمه الله تعالى ، وقيل محمد رحمه الله تعالى بركنية التحريمة وهو لا ينفى القراءة فيها .

وأمّا قوله : واشتراط الطهارة واستقبال القبلة فيها لا يدل على كونها صلاة حقيقة ، ليس نافياً لجواز القرآءة لأن المدعى ليس حقيقتها فينفيه ، بل كونها صلاة من وجه ، وليست سجدة التلاوة تماثلها ، لأنه يلزم القيام فى صلاة الجنازة ، ومتابعة الإمام ، وعدم التقدم عليه ، وسجدة التلاوة لا يشترط القيام فيها ، وإذا سجد تاليها لا يشترط متابعته ، ولا تقدمه حال السجود على السامعين ، على أنه لا يصح نفى القراءة فى الجنازة بالقياس على سجدة التلاوة ، لما أن تقليد الصحابى واجب ، وهو عبارة عن اتباعه فى قوله او فعله معتقدا للخفية من غير تأمل فى الدليل ، يترك به القياس لإحتمال السماع من النبى صلى الله عليه وسلم كما فى شرح المنار لإبن الملك . إنتهٰى

وهذا فيها ، ثم يصف الصحابى فعله بكونه من السنة ، فإنه إذا قال من السنة كذا يكون حكمه حكم

([1]) هناك بياض فى الأصل ولعل العبارة [والراوى إذا فعل بخلاف ما روى يبقي روايته] ، والله أعلم .

الرفع ، وقد وجدنا ذلك هنا بقول ابن عباس رضى الله تعالىٰ عنهما وفعله كما سنذكره انه قرأ الفاتحة وجهر بها .

وقال الكمال بن الهمام رحمه الله تعالى فى فتح القدير : (١) قالوا لا يقرأ الفاتحة إلا أن يقرأها بنية الثناء ، ولم تثبت القراءة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ، وفى موطأ مالك عن نافع عن ابن عمر رضى الله عنهم كان لا يقرأ فى الصلاة على الجنازة . (٢) إنتهٰى

وأقول : لفظة (قالوا) تذكر فيما فيه خلافه ، والمنفى يحتمل انه اللزوم وعدم قراءة ابن عمر لا ينفى الجواز ، ونفى ثبوت القراءة عن النبى صلى الله عليه وسلم إن أريد به لزومها ، فمسلم ، وإن أريد عدم ورودها أصلاً ، فسنذكر الدليل على ثبوتها عن النبى صلى الله عليه وسلم ان شاء الله تعالى .

وقال شارح القدورى الشيخ الإمام أبو نصر البغدادى رحمه الله (٣) : ليس فى صلاة الجنازة قراءة وقال الشافعى رحمه الله لا بدّ من قراءة الفاتحة لما روى ابن مسعود رضى الله عنه أنه قال ما اوجب لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم فى صلاة الجنازة قولا ولا قراءة ، كبّر ما كبّر الإمام واختر من أطيب الكلام ما شئت ، ولأن القراءة لو وجبت فى صلاة الجنازة لتكرر وجوبها كسائر الصلوات .

فإن قيل : قال النبى صلى الله عليه وسلم : لا صلاة إلاّ بفاتحة الكتاب . (٤)

قيل له : المراد غير صلاة الجنازة ، بدليل أنه قال فى الخبر : يقرأ فيها بفاتحة الكتاب أو شيئا من القرآن . إنتهٰى

وأقول : إن قوله : ما اوجب لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ﷺ يفسّر ما تقدم عن ابن مسعود من قوله : لم يوقت لنا ، بنفى وجوب قراءة الفاتحة ، والخبر الذى رواه خيّره بين قراءة الفاتحة أو شيء من القرآن ، فلا ينفى للقراءة ، وتقدم إن ابن مسعود قرأ وفعله بين ما احتمله مرويه ، فبهذا يثبت جواز قراءة الفاتحة ، ولأن أدنى درجات عدم التوقيت الإباحة لا الكراهة ، كما أبيح من أطيب الكلام ما شاء، فقول الشيخ أبى نصر رحمه الله : ليس فى صلاة الجنازة قراءة ، المنفى به الوجوب لا الجواز .

وقال الإمام النسفى فى الكافى (٥): ولا يقرأ الفاتحة عقيب الأولى، خلافا للشافعى لأنّ ما هو ركن

---

(١) انظر : فتح القدير (٢ / ٨٥) .

(٢) انظر : الإستذكار لابن عبد البر (٨ / ٢٦١) .

(٣) هو الإمام أحمد بن محمد بن محمد ، أبو نصر ، الفقيه الحنفي ، المعروف بالأقطع ، تفقه على أبى الحسين أحمد القدورى وبرع فى الفقه وأتقن الحساب، من تصانيفه: شرح مختصر القدوري ، مات سنة أربع وسبعين وأربع مئة . انظر : الفوائد البهية (٤٠) ، الجواهر المضية (١ / ٣١١ – ٣١٢) ت = ٢٣٣ ، معجم المؤلفين (١ / ٢٩١) .

(٤) متفق عليه من حديث عبادة بن الصامت ، رواه البخارى (٧٥٦) ومسلم (٣٩٤) ، وانظر : عمدة القارى (٦ / ١٤) .

مفرد لم يشرع فيها قراءة شيء كسجدة التلاوة ، واعتبرها الشافعى ساير الصلوات .

وقد يقال المقيس عليه ليس صلاة أصلاً ، فلا يماثل صلاة الجنازة ، لأنها ذات أركان أربع والقيام فيها شرط لصحتها كما بيناه ، وعلمت أن فعل الصحابى يترك به القياس ، وقد جعلها فى الكافى صلاة من وجه بقوله بعد هذا : انه لا يصلى راكعا استحسانا ، لأنها صلاة من وجه لوجود التحريمة واستقبال القبلة وفى حكم القيام لتشارك سائر الصلوات ، فكما أن ترك التكبير والإستقبال يمنع الإعتداد بها ، فكذا ترك القيام . إنتهى كلامه

وهو يلزم القراءة كما لزم القيام لكونها صلاة من وجه ، فلا أقل من ثبوت جواز القراءة ، فقوله قبله : لم يشرع فيها قراءة ، إنما يسلم ان يكون المنفى به شرعية اللزوم لهذا المعنى الذى ذكره بعده .

وقول المحقق الكمال بن الهمام فيما تقدم : ولم تثبت القراءة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم لا ينفى جوازها .

ونقول بل ثبت القراءة عن النبى صلى الله عليه وسلم ، فالمنفى إنما يكون ثبوت اللزوم لا نفس القراءة إذ نفيها غير مسلم .

فإنى قد رأيت بخط أستاذى العلامة الشيخ الإمام محمد المجتهد الحنفى رحمه الله ([١]) على نسخة من شرح الشيخ الكمال ابن الهمام على الهداية ما صورته :

قد يستدل على القراءة فى الجنازة بعموم حديث لا صلاة إلا بفاتحة ، وعن أم شريك أمرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم أن نقرأ على الجنازة بفاتحة الكتاب ، رواه ابن ماجة . ([٢]) وعن ابن عباس انه صلى على جنازة فقرأ بفاتحة الكتاب وقال لتعلموا انه من السنة ، رواه البخارى وصححه الترمذى ،

([٥]) هو عبد الله بن احمد بن محمود النسفي، الحنفي (حافظ الدين، أبو البركات) توفي سنة ٧١٠ في بلدة ايذج وهي كورة وبلد بين خوزستان وأصبهان .

من تصانيفه : عمدة العقائد في الكلام وشرحها وسماها الاعتماد، مدارك التنزيل وحقائق التأويل في التفسير، منار الانوار في اصول الفقه، الكافي في شرح الوافي، كلاهما – المتن والشرح - له ، وكنز الدقائق وغيرها .

انظر : الفوائد البهية (١٠١ – ١٠٢) ، الجواهر المضية (٢ / ٢٩٤ – ٢٩٥) ، معجم المؤلفين (٢ / ٢٢٨) .

([١]) هو أستاذ المؤلف العلامة المحبي محمد بن منصور بن ابراهيم بن سلامة ، الدمشقي ، الحنفي ، الشهير بالمحبي و: محب الدين ، و: شمس الدين ، توفي سنة ١٠٣٠ هـ . من تآليفه : شرح على الهداية .

وصنيع المصنف حيث ذكر مع اسمه (رحمه الله) يدل تقريباً على أنه كان ماتاً في وقت تصنيف الرسالة وهو سنة ١٠٦٥ كما مرّ في مقدمة التحقيق ص ٧ .

انظر : خلاصة الأثر (٤ / ٢٣١ – ٢٣٣) ، معجم المؤلفين (٣ / ٧٣٤) .

([٢]) باب ما جاء في القراءة علي الجنازة (١٤٨٥) .

وعن جابر انه عليه السلام كبر على جنازة أربعاً وقرأ بفاتحة الكتاب بعد التكبيرة الأولىٰ، وعن أبى أمامة بن سهل قال : من السنة أن يقرأ على الجنازة بفاتحة الكتاب ، رواها الشافعى فى مسنده .

وسنذكر أن قول الصحابى : من السنة كذا ، حكمه الرفع . وروى سعيد وابن المنذر كان ابن مسعود يقرأ على الجنازة بفاتحة الكتاب .

وقلت : وفيه عمل الراوى بخلاف ما روى من وجه فيعمل به كما تقدم . إنتهٰى

وعن عبد الله بن عمرو مثله ، رواه الأثرم ، وعن مجاهد : سألت ثمانية عشر صحابيا ، فقالوا : يقرأ ، رواه الأثرم، هكذا للشيخ قاسم فيما أظن . إنتهٰى ما رأيته بخط أستاذى رحمه الله تعالى.

قلت : وهذا ينظر به على ما قاله الكمال : لم يثبت القراءة من رسول الله صلى الله عليه وسلم ، لأن قول الصحابى أنه من السنة ، حكمه الرفع كما سنذكره ، وتقدم رواية جابر انه صلى الله عليه وسلم قرأ بفاتحة الكتاب بعد التكبيرة الأولىٰ.

وقال العلامة ابن الضياء شارح المجمع ([1]) : ولا نعين الفاتحة وعند الشافعى يقرأ الفاتحة ، يعنى لزوما لكون صلاة الجنازة صلاة من وجه ، فيتناولها قوله صلى الله عليه وسلم : لا صلاة إلا بفاتحة الكتاب ، وبه قال أحمد . وروى عن ابن عباس أنه صلى على جنازة فقرأ فيها بفاتحة الكتاب وجهر فيها وقال : إنما جهرت لتعلموا أنها سنة ، ذكره الترمذى وغيره .

ولنا ما روى عن ابن مسعود رضى الله عنه انه قال : ما وقت لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم فى صلاة الجنازة قولا ولا قراءة ، كبّر ما كبّر الإمام واختر من أطيب الكلام ما شئت . إنتهٰى

قلت : وقدمنا ان ابن مسعود كان يقرأ على الجنازة بفاتحة الكتاب ، فالمنفى فى الرواية توقيت القراءة لا جوازها ، وفعله ليس من قبيل اسقاط العمل بما رواه ، لأنه ليس مخالفا من كل وجه ، بل ورد بيانا لما يحتمله ما رواه من عدم التاقيت لزوما . إنتهٰى

([1]) شارح المجمع ابن الضياء هو محمد بن أحمد بن محمد بن محمد بن سعيد ابن محمد العمري ، الصاغانى الأصل ، المكي ، الحنفي ، المفسر ، المحدث ، الفقيه ، الأصولى ، ويعرف بابن الضياء .

ولد بمكة في ٩ المحرم سنة ٧٨٩ ، ونشأ بها وتوفي بها في ذي القعدة سنة ٨٥٤.

من تصانيفه الكثيرة : المشرع في شرح المجمع (أي مجمع البحرين) في فروع الفقه الحنفي في أربع مجلدات ، البحر العميق في مناسك المعتمر والحاج إلى البيت العتيق، في ثلث مجلدات ، تنزيه المسجد الحرام عن بدع جهلة العوام في مجلد، تفسير القرآن ، وشرح على أصول البزدوي الحنفي .

انظر : الضوء اللامع (٩ / ٣٧ ، ٣٨) ت = ٢٠٠٤ ، طرب الأماثل بتراجم الأفاضل (٢٩٩) ت = ٣٦٣ ، معجم المؤلفين (٣ / ١٠٦ – ١٠٧) .

ثم قال ابن الضياء : قال ابن بطال : وممن كان لا يقرأ فى صلاة الجنازة وينكر عمر بن الخطاب ، وعلى ابن ابى طالب ، وابن عمر ، وأبو هريرة ، ومن التابعين : عطاء ، وطاووس ، وسعيد بن المسيب ، وابن سيرين ، وابن جبير ، والشعبى ، والحكم .

وقال مالك : قراءة القرآن فى صلاة الجنازة ليست بمعمول بها فى بلدنا ، وقول ابن عباس : أنها سنة ، سلمنا ذلك ، لكن لا نسلم أنها سنة النبى صلى الله عليه وسلم ، ألا يرى إلى قوله صلى الله عليه وسلم : من سنّ سنة حسنة فله أجرها وأجر من عمل بها إلى يوم القيامة ، وأمّا قوله صلى الله عليه وسلم : لا صلاة إلا بفاتحة الكتاب ، قلنا : لا نسلم أن مطلق الصلاة يدل على صلاة الجنازة ، لأنها صلاة مقيدة ، والمطلق لا يدل على المقيد .

ومن جهة النظر أنها لو كانت مسنونة لجازت قرائتها بعد كل تكبيرة ، كما جازت فى كل ركعة ، لأن كل تكبيرة بمنزلة ركعة ، وان قرأ الفاتحة بنية الدعاء جاز . إنتهت عبارة ابن الضيا رحمه الله .

وأقول : قدمنا قراءة ابن مسعود خلافا لما روى رايه يحتمله مروية .

وقوله : وممن كان لا يقرأ وينكر ، لم يذكر مفعوله ، فيحتمل ينكر الوجوب وبه نقول ، إنما الكلام فى الجواز .

وقول الإمام مالك : قراءة القرآن فى صلاة الجنازة ليست بمعمول بها فى بلدنا ، يحتمل نفى العمل وجوبا أو جوازا ، فلا يستدل به على المدعى .

وقول ابن الضيا : سلمنا قول ابن عباس أنها سنة ﷺ لا يكفى لإثبات المدعى وهو نفى القراءة ، لأنه سلم كونها سنة حسنة ، فأثبت جوازها ، ولكن هو يريد نفى سنيتها ومشروعيتها ويرد عليه ، ويثبت سنيتها قول المحقق ابن الهمام فى التحرير .

وقوله اى الصحابى : من السنة ، ظاهر عند الأكثر فى سنته عليه السلام ، كقول على رضى الله عنه : من السنة وضع الأكف على الأكف فى الصلاة تحت السرة ، رواه أبوداؤد وابن الأعرابى (١) . إنتهٰى

وكذا نص الحافظ العراقى رحمه الله (٢) بقوله :

قول الصّحابى (من السنة) أو نحو (أُمِرْنا) حكمه الرفع ولـو
بعــد النبى قـــاله بأعـــصُر على الصحيح وهو قول الأكثر

(١) انظر : تخريج هذا الحديث مفصَّلا في فتح المغيث ج ١ص ١٩٤ .

(٢) انظر : فتح المغيث (١ / ٨) البيتان (١٠٥ – ١٠٦) ، وانظر شرح السخاوى على هذين البيتين في (١ / ١٩٤) فما بعدها من فتح المغيث .

أى أكثر العلماء سواء قاله فى محل الإحتجاج أو لا ، تامر عليه غير النبى صلى الله عليه وسلم أم لا ، لأنه المتبادر إلى الذهن عند إطلاق هذه الألفاظ ، لأن مدلولها منه صلى الله عليه وسلم ، لأنه الشارع ومن غيره تبع له ، مع أن الظاهر أن مقصود الصحابى بيان الشرع .

ومقابل الصحيح الذى هو قول الأكثر انه لا يحكم كذلك بالرفع ، لإحتمال أنه من غير النبى صلى الله عليه وسلم كسنة البلد وسنة الخلفاء الراشدين وأمرهم ونهيهم ، فمحل الخلاف كما قال ابن دقيق العيد إذا كان الإجتهاد فى المروى مجال ، وإلا فحكمه الرفع قطعا ، كذا قاله شيخ الإسلام زكريا الأنصارى فى شرح ألفية العراقى رحمه الله تعالى ، فانتفى به حمل ابن الضيا قول الصحابى على أنه طريقة حسنة ، لأنه ليس الصحيح . وثبت على الصحيح سنة القراءة عن النبى صلى الله عليه وسلم بقول ابن عباس أنها سنة أى قراءة الفاتحة فى صلاة الجنازة ، ومع هذا قال فى شرح المنار لابن الملك وتقليد الصحابى واجب ، وهو عبارة عن اتباعه فى قوله أو فعله يعنى الذى لم يصفه بكونه من السنة فيجب تقليد الصحابى فيه ، ويعتقد المقلد حقيقته من غير تأمل فى الدليل ويترك به القياس لإحتمال السماع من النبى صلى الله عليه وسلم . انتهى

فهذا نص على وجوب اتباع ابن عباس رضى الله عنهما ولزومه فى حقيقة سنة قراءة الفاتحة فى صلاة الجنازة ، فكيف مع بيان ابن عباس وجه جهره بقراءة الفاتحة على الجنازة بانه فعل ذلك عمدا لتعلموا أنه من السنة ، فلا يعدل عنه لأنه نص من ابن عباس رضى الله عنهما فيوجب تقليده لأنه فعل ، وقال فلزمنا ذلك بقوله فى المنار : تقليد الصحابى واجب فى قوله وفعله المجرّد عن وصفه بانه من السنة ، فكيف وقد وصفه ابن عباس بأنه فعله عمدا ليعلموا أنه من السنة .

فبهذا ثبت سنية قراءة الفاتحة فى صلاة الجنازة بكلام أئمتنا فى أصول الفقه بوجوب تقليد الصحابى فكيف يحكم مع ذلك من كتب الفروع بكراهة قراءة الفاتحة فى صلاة الجنازة .

وقوله أى ابن الضيا : قلنا لا نسلم أن مطلق الصلاة فى قوله صلى الله عليه وسلم : لا صلاة إلاّ بفاتحة ، يدل على صلاة الجنازة ، لأنها صلاة مقيدة والمطلق لا يدل على المقيد . هذا القول من ابن الضيا لا يثبت مدعاه ولا ينفى جواز قراءة الفاتحة فى الجنازة ولو كانت ليست صلاة كاملة لأنها لها حكم الكاملة لزوما عند الشافعى رحمه الله ونقول بموجب الدليل جوازا .

وأمّا كون صلاة الجنازة مشروعة للدعاء للميت فلا يثبت لزوم قراءة الفاتحة فى كل تكبيرة ولا سنتها فى كل تكبيرة عند الشافعى فانتفى وجه النظر الذى قاله ابن الضيا .

فبهذا النص المذكور فى أصول الفقه عند أئمتنا لم نر وجها يقتضى كراهة الفاتحة فى صلاة الجنازة بل نصّهم ملزم سنيتها كما علمته .

وفى مبسوط شمس الأئمة السرخسى رحمه الله قال : ولا يقرأ فى صلاة الجنازة بشيء من القرآن ، وقال الشافعى رحمه الله يفترض قراءة الفاتحة ، وموضعه يعنى الأفضل عقيب تكبيرة الإفتتاح ، لقوله صلى الله عليه وسلم : لا صلاة إلا بقراءة الفاتحة ، وهذه صلاة بدليل اشتراط الطهارة واستقبال القبلة فيها ، وفى حديث جابر رضى الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم كان يقرأ فى الصلاة على الجنازة بأم القرآن ، وقرأ ابن عباس فيها بالفاتحة وجهر ثم قال عمدا فعلت ليعلم أنه سنة .

ولنا حديث ابن مسعود قال : لم يوقت لنا فى الصلاة على الجنازة دعاء ولا قراءة كبّر ما كبّر الإمام واختر من الدعاء أطيبه ، وهكذا روى عن عبد الرحمن بن عوف وابن عمر أنهما قالا ليس فيها قراءة شيء من القرآن ، وتأويل حديث جابر انه كان قرأ على سبيل الثناء لا على وجه القراءة . انتهٰى

قلت : قدمنا أن التأويل غير مسلم إذ لا يعلم قصد الثناء إلا من التالى لأنه أمر مبطن والنبى صلى الله عليه وسلم قرأ قرآنا حقيقة والعمل بظاهر التلاوة لا يعدل عنه اتباعا لفعل النبى صلى الله عليه وسلم لأنه الشارع ، وأقل مراتب القراءة سنيتها ، وقد علمنا قول ابن عباس انه من السنة ، وعلمنا ان حكمه الرفع كما بيناه وقدمنا النص فى الأصول على وجوب اتباع الصحابى فى قوله وفعله الخالى عن وصفه بأنه من السنة ، وانه يترك به القياس ، فكيف مع وصفه بأنه من السنة ، وقدمنا ما رواه ابن ماجة عن أم شريك أمرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم أن نقرأ على الجنازة بفاتحة الكتاب ، ورواية جابر ان النبى صلى الله عليه وسلم كبّر على جنازة أربعا وقرأ بفاتحة الكتاب بقدر التكبيرة الأولىٰ .

وما عن أبى أمامة قال : من السنة أن يقرأ على الجنازة بفاتحة الكتاب .

وما عن ابن مسعود انه كان يقرأ على الجنازة بفاتحة الكتاب .

وما عن ابن عمر مثله ، وما عن مجاهد سألت ثمانية عشر صحابيا فقالوا يقرأ ، فهذا كله مثبت سنة قراءة الفاتحة مع نص أئمتنا فى كتب الأصول على مثله فكيف تكون القراءة مكروهة أو غيرها جائزة مع ذلك كما نصّ عليه فى الفروع من كتب المذهب .

وقال فى النتف : وأما الصلاة على الجنازة أَ هى صلاة على الحقيقة أم لا ؟ فان فى قول ه ص هى دعاء فى الحقيقة وليست بصلاة ، لأنه لا قراءة فيها ولا ركوع ولا سجود ، وفى قول ع هى صلاة على الحقيقة لعشرة علل فيها لأجل التكبير والتسليم واستقبال القبلة ويقدم الإمام واصطفاف القوم خلفه والطهارة والامتناع من الكلام ومابعة الإمام ورفع اليدين عند التكبيرة الأولى ، وتعارف اياها بالصلاة وأكّد ذلك قوله تعالى : وَلاَ تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا [التوبة : ٨٤] انتهٰى ، قلت : ويزاد عليها القيام وستر العورة ولزوم وقوف المصلى على الأرض ولزوم وضعها على الأرض بدون عذر .

وأما نفى القراءة فيها فهو لا ينفى جوازها بل لزومها ، وقال فى القنية : القراءة فى صلاة الجنازة وفى التكبيرة الأولى يجب التحميد ، ولو قرأ فيها الحمد لله جاز ، ولو كان ساكتا يجوز صلاته . انتهى ، فالمنفى لزوم القراءة لا جوازها ، انتهٰى ، وكتب فاضل تحت قوله : ولو قرأ فيها الحمد لله أى إلى اخر السورة جاز ، انتهٰى ، وهذا نص على جواز قراءة الفاتحة بكونها قرآنا ، وهو موافق لما علمته من كتب الأصول موافقا للسنة .

ومن الفروع التى نص فيها على استحباب مراعاة الخلاف كمسّ الفرج ومسّ الذكر والمرأة وأكل لحم جزور ، فيعاد بها الوضوء استحباباً ، وقهقهة خارج الصلاة والرجعة بالقول لإيجابه عند مجتهد وصيغة الإيجاب والقبول فى البياعات دون التفاضى ، فبذلك يستحب قراءة الفاتحة مراعاةً للخلاف المقتضى بطلان الصلاة بدون قرائتها مع موافقة كتب الأصول عندنا على سنيتها فلا يعدل عنه ، والله سبحانه الموفق بمنّه وكرمه ، هذا ما ذكرته لك واختر لنفسك ما يجلوا .

انتهٰى تأليفها فى شهر شعبان سنة خمسة وستين وألف (١٠٦٥) ، غفر الله له ولوالديه ولمشائخه ومحبّيه ولطف الله به . آمين ، آمين .

تمت الرسالة ، ولله الحمد والمنة

وتمت كتابتها بتاريخ

الاثنين ، ٠٨ جمادى الثانية ، ١٤٣٠ هجرى ق



فتاوی دارالعلوم دیوبند

مدلل و مکمل

پښتو

٦


بسم الله الرحمن الرحيم

دموجوده وخت په دار الافتآء کی دمروجه نسخو مطابق، دنوی تخریج سره اعلیٰ کمپوټري چاپ

فتاویٰ دارالعلوم دیوبند

مُدلّل و مکمّل

په آسانه او روانه کندهاری پښتو

شپږم جلد ۶

کتابُ الزّکوٰة ، کتابُ الصّوم ، کتابُ الحجّ

تالیف: مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی رحمه الله
((ددار العلوم دیوبند اول مفتی))

په لار ښوونه د: حکیم الاسلام حضرت مولانا قاری محمدطیّب صاحب رحمه الله (مهتمم دارالعلوم‌دیوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفیر الدین صاحب، رفیقِ شعبهٔ ترتیبِ فتاویٰ دار العلوم دیوبند

اضافه تخریج جدید: مولانا مفتی محمد صالح، رفیقِ دارالافتآء جامعة اسلامیه، بنوری ټاؤن کراچی

ژباړه ، تعلیق او تحقیق : مولانا حافظ محمّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانیه، پشاور

زیرِ نګرانی: شیخ الحدیث حضرت مولانا الشیخ عبد القادر النهرکاریزي (دامت برکاتهم العالیة)

مکتبهٔ حبیبیه

کاسی روډ، کوئټه : 0812662448

al-ilmcorp@hotmail.com
لومړی چاپ

۱۴۳۰ ربيع الاول هـ \ مارچ 2009 م

Maktabah Habibiyah	مکتبۀ حبيبيۀ
Publishing Organization	خپروونــکی اداره

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارگ بازار کندهار ، افغانستان ، گرځنده تليفون
Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجدِ نور ، کوئټه ، تليفون شميره
AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپيوټرز، کوئټه پاکستان، گرځنده تليفون شميره

دفتاوٰی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست ، جلد ❻

❋ ❋ ❋

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

(فتاوی دار العلوم دیوبند ، مدلّل ومکمّل ، جلد شپږم)

الحمدللہ رب العٰلمین والصلٰوۃ والسلام علی سید المرسلین وعلی الہ وصحبه اجمعین.

دالله ﷻ شکردی چی دفتاوٰی دشپږم جلد تکمیل یې وفرمایې، ترنظر لاندی فتاوٰی په تزئیین اوترتیب کی چی کمی اوښکی، خولی توی سوی او خواری سوی دهغه څخه اهل علم بی خبره نه دی، همدا وجه ده کله چی کم نوی جلد په ترتیب او په حواله سره مزین سی او منظر عام ته راسی نو دخاکسار مرتب زړه دحمد اوشکر څخه ترځنډو ډك سی، ددار العلوم له طرف څخه چی کم خدمت راسپارل سوی هغه په تدریج سره پای ته رسیدلی، ملت اسلامی ددی څخه برابر ګټور کیږی، واقعیت دادی دا څه چی سوی او کیږی دا ټول درب العزت دتوفیق او دهغه دلاس نیونی نتیجه ده، دالله په حمد سره په دی جلد کی دری کتابونه راغی، **کتاب الزکاۃ**، **کتاب الصوم** او **کتاب الحج** دی، ددی ضخامت او په جلدونو کی یې لویوالی راغلی دی، مګر پر خاطر باندی دروند نه دی، تقریبًا دشپږو سوو صفحو تصحیح، ترتیب اوتزئین او داپه حوالو ښائسته کول، په دی کی ممکن دخاکسار څخه نیمګړتیا وسی، او واقعًا داسی کیږی مګر څومره چی ترسعی اوکوشش، جستجو، بحث اوتحقیق پوری یې تعلق دی، دخپل طرف څخه به پکښی حتی الوسع هیڅ کمی او کوتاهی ونه کړم، کامیابی درب العٰلمین په واك کی ده.

دمیاشتی په لیدو دنن څخه اته کاله مخکی خاکسار په مارچ ۱۹۷۰ کی ددیوبند ددار العلوم په رساله کی یوه جامع رساله لیکلی وه، په کمه کی چی دقرآن کریم اودسنت څخه دا ثابته کړی ده چی دجدیدو تعلیم یافته حضراتو دارجحانات صحیح نه دی چی درؤیت هلال په باب کی دی دفلکیاتو او ریاضی پوهانو فیصله ومنل سی او دمیاشتو په لیدو کی دی زحمت برداشت نه کړای سی.

دراډیو دخبر په سلسله کی دنن څخه ډیر پخوا دجمعیت علماء هند داکابرو بیان اوپه اوس حال کی چی دتحقیقات شرعیه دمجلس چی کمه فیصله راغلی ده دهغه څخه مسئله واضحه کیږی مخ ته راځی.

دریډیو په سلسله کی علماؤ چی کمه فیصله کړیده، دهغه لنډیز دادی:

دراډیو څخه درؤیت هلال اعلان خبر دی، اصطلاحی شاهدی نه ده دراډیو اجمالی اعلان

چی په فلانی ښار کی میاشت ولیدل سوه، یا سباته اختر او لمونځ کیږی دقبلولو وړنه دی اونه په دا رکم اعلان روژه نیول اوافطار کول درست دی دغه رکم په یوځای کی دراډیوګانو په حواله سره په مختلفو ښارونو کی دراډیو خبرهم دقبلولو وړنه دی.
دراډیو په اعلان سره چی دروژی اویا افطار حکم چی ورکول کیږی ددی دوجه ضروری ده چی دا خبر تفصیلی وی اوذمه وارو علمآء وو دطرف څخه وی یاکم ازکم دهغوی دذمه واری په حواله سره وی، چی هغوی باقاعده شرعی شهادت واخلی، او دمیاشتی دلیدل کیدو فیصله وکړی، مثلاً دراډیو سټیشن څخه یومسلمان دا اعلان وکی چی زموږ په ښار کی دمیاشتی دلیدو کمیټی دعلماء وو جماعت یا دشریعت قاضی دشرعی ثبوت څخه وروسته دمیاشتی دلیدو فیصله کړیده، په دغه رکم واضح اعلان باندی دروژی نیول اوافطار کول درست دی، په راډیو باندی چی کم متدین مسلمان نه وی، بلکی دراډیو غیر مسلم ملازم وی اوهغه دکمی ذمه واری هلال کمیټی یاجماعت علماء یا دشریعت دقاضی فیصله دنوم په صراحت سره اعلان کی نودغه اعلان هم قابل دمنلو دی، اودروژی اودافطار حکم صحیح کیږی دغه رکم دتوپ په ډز سره او دنغاره‌چی په اعلان باندی فقهاء وو دروژی نیول اوافطار جائز بللی دی.
دپاکستان اودنورو نژدی هیوادونو دراډیوګانو اعتبار هم هغه وخت وی کله چی دهغوی اطلاع داصولو اواحکامو مطابق وی.
دمطلع په سلسله کی دتحقیقاتو شرعیه وو مجلس چی کمه فیصله کړی هغه داده:
په بلاد بعیده وو کی اختلاف دمطالعو ته اعتبار سته البته په نژدی هیوادونو کی معتبر نه دی اودبلادو بعیده ؤ څخه مراد دادی چی هغه دومره لیری وی چی عادتًا دهغوی په لیدلو کی یوه ورځ فرق وی لکه دمصر او دحجاز.
مګر داواضحه ده چی زموږ په دی فتاوٰی کی اختلاف دمطالعو دروژی په باب کی معتبر نه دی اواوس هم دلته پردی قول فتوٰی ورکول کیږی دهوایی جهاز څخه دمیاشتی دلیدلو په سلسله کی فیصله داده، په هوایي جهاز دومره لیری رسیدل اومیاشتی لیدل چی ددې مطلع بدله سی معتبر نه دی البته که چیری دومره اندازه لیری تللی نه وو نو د هغه شاهدی معتبر ګرځول کیږی.
په اخر کی دشعبی سرپرست حکیم الاسلام حضرت القاری الحافظ محمد طیب صاحب دامت برکاتهم اودخپلو قدرمنو استاذانو دامت فیوضاتهم په عالی خدمت کی دعقیدی او محبت هدیه مخکی کول خپل فرض بولم ، دکمو دخاصی پاملرنی او ددعاګانو په صدقه کی چی خاکسارددی ګرامی خدمت لائق سویدی الله ﷻ دی دغه دعاګانی قبولی

کړی، اودمرتب دپاره دی یې داخرت توښه اودفلاح دارین ذریعه جوړه کړی.

ددعاء طلبګار

محمد ظفیر الدین غفرله

مرتب فتاوٰی دار العلوم دیوبند

١١٠ جمادی الاولی سنه ١٣٨٧هـ

❋ ❋ ❋

بِسۡــــــــــــمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الحمد لله وكفٰى ، وسلام علىٰ عباده الذين اصطفٰى .

كتابُ الزَّكوٰة

لومړی باب : دزکات صفت او شرطونه

<u>دزكات حكم كله نازل سويدی؟</u> سوال: (۱). دزکاة حکم په قرآن مجید کی په څومره ځایونو کی راغلی دی؟ اودهجرت په کم کال يې حکم نازل سويدی؟

جواب: په درمختار اوپه شامی کی راغلی چی دزکاة حکم په قرآن کریم دلمانځه سره ۳۲، ځای راغلی دی، او دلمانځه څخه علاوه چی ذکردی هغه نه دی لیکل سوی قرآن کریم وګوری، اودهجرت په دوهم کال فرض سویدی، قال فی الدر المختار قرنها بالصلوة فی اثنین وثمانین موضعًا فی التنزیل (الی ان قال) وفرضت فی السنة الثانیة قبل فرض رمضان الخ قال الشامی وصوابه اثنین وثلاثین ([1]). فقط والله اعلم

<u>ديوی مسئلی تحقیق</u>: سوال: (۲) په غایة الاوطار کی يې لیکلی دی چی دغنی څخه مراد په دی ځای کی هغه دی چی دنصاب خاوند وی چی هغه د (۵۷) روپو اندازه ده برابره خبره ده چی هغه اندازه نغدی وی اوکه جنس وی لکه باغ یا مزکه یا داوسیدلو دځای څخه بغیر دوهمه حویلۍ ددومره روپو وی نوداسی شخص ته دنذر څه شی خوړل روا نه دی، نوپر داسی شخص باندی قربانی یاصدقه واجب ده اوکه نه؟ اودا مسئله صحیح ده اوکه نه ده صیح؟

جواب: په دی کی هم اختلاف دی، اوداچی په غایة الاوطار کی دی دا دامام ابی یوسف رحمه الله مذهب دی اودامام محمد رحمه الله مذهب دادی اوپه همدی باندی فتوٰی ده چی په غیر دنغدو څخه په مزکه اوداسی نور سره دنصاب مالك نه سی کیدی ([2]).

([1]). ردالمحتار کتاب الزکاة ج۲ ص ۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۵۲. ظفیر

([2]). وذكر فی الفتاوٰی فیمن له حوانیت ودور للغلة لكن غلتها لا تكفیه وعیا له انه فقیر ویحل له اخذ الصدقة عند محمد وعند ابی یوسف لا یحل ﷺ سئل محمد عمن له أرض یزرعها أو حانوت یستغلها أو دار غلتها ثلاثة آلاف ولا تكفي لنفقته ونفقة عیاله سنةً یحل له أخذ الزكاة وإن كانت قیمتها تبلغ ألوفا، وعلیه الفتوی، وعندهما لا یحل اهـ (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۸ ط. س. ج۲ ص ۳۴۸). ظفیر

دنابالغه په مال کی زکات واجب دی اوکه نه؟ سوال: (۳) دنابالغه په مالل کی زکات واجب دی دی اوکه نه؟

جواب: وشرط افتراضها عقل، بلوغ واسلام (درمختار) فلاتجب على مجنون وصبي لانها عبادة محضة وليسا مخاطبين بها الخ ردالمحتار (١)، وفي الهداية : وَلَيْسَ عَلَى الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ زَكَاةٌ خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فَإِنَّهُ يَقُولُ: هِيَ غَرَامَةٌ مَالِيَّةٌ فَتُعْتَبَرُ بِسَائِرِ الْمُؤنِ كَنَفَقَةِ الزَّوْجَاتِ وَصَارَ كَالْعُشْرِ وَالْخَرَاجِ وَلَنَا أَنَّهَا عِبَادَةٌ فَلَا تَتَأَدَّى إِلَّا بِالِاخْتِيَارِ تَحْقِيقًا لِمَعْنَى الِابْتِلَاءِ ، وَلَا اخْتِيَارَ لَهُمَا لِعَدَمِ الْعَقْلِ الخ (٢)، دليكل سوی عبارت څخه واضحه سوه چی دشرعی نابالغه په مال کی زکات واجب نه دی ، او په نصوصو کی نابالغه شرعی ماشوم غیر مکلف اومرفوع القلم ثابت دی، قال ﷺ رفع المسلم عن ثلاثة عن النائم حتٰی یستیقظ، وعن الصبی حتٰی یبلغ، وعن المجنون حتٰی یفیق الحدیث، (٣) او کما قال رسول الله ﷺ. او داچی دلمانځه، روژی اودحج او دداسی نورو عباداتو عدم وجوب داهم دلیل دعدم وجوب دزکاة دی، اوحدیث دحتٰی لا تاکله الصدقة، سره دوجود دعدم صحت څخه هغه مؤول دی. فقط

دنصاب اندازه څه ده اوزكاة هركال وی اوکه نه صرف یووار؟ سوال: (۴۱) په زکاة کی ګینه دسپینو زرو نصاب یا دسرو زرو دڅو روپو وی؟ اودیووار زکاة ایستلو سره ترعمر پوری معافی وی اوکه نه؟ اودانګریزی روپو دمخی نصاب دڅومره روپو وی، مثلاً دځلوېښتو روپو ګینه وی په دی کی زکات سته اوکه نه؟ اویا ددی څخه په لږ یازیاتو کی زکاة سته اوکه نه؟

جواب: په زرو کی زکاة واجب دی، دسپینو زرو نصاب دوه سوه درهمه یعنی **٥٢** نیمی تولی چی دخپل وخت رواجی سکه وی او دسروزرو نصاب اوه **٧** نیمی تولی سره زر دی اوکه زیورات ددواړو څخه وی نودسرو زرو قیمت په سپینو زرو کی په شامل کولو سره زکاة اداء کول پکاردی په زکاة کی څلوېښتمه حصه ورکول واجب دی یعنی **٢** نیمی روپی دسلو په حساب سره ، زکات دکال دتیریدو څخه وروسته اداء کړی (٤) اوزکاة هر

(١). ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج۲ ص ۴ ط. س. ج۱ ص ۲۵۸. ظفیر

(٢). هدایه کتاب الزکوٰۃ ج۱ ص ۱۲۸.

(٣). وګوری نصب الرایه کتاب الزکوٰۃ ج۲ ص ۳۳۳.

(٤). فاذا کانت مائتین وحال علیها الحول ففیها خمسة دراهم الخ ولیس فیما دون عشرین مثقالا من ذهب صدقة فاذا کانت عشرین مثقالا علینا نصف مثقال الخ وفی تبر الذهب والفضة علیهما واوانیهما الزکوٰۃ (هدایه باب زکوٰۃ المال ج۱ ص ۱۷۲ ، ۱۷۷) . ظفیر

کال ورکول لازم دی (١). فقط (دوه پنځوس **۵۲** نیمی تولی سپین زر یا ددی قیمت نصاب دی اول چونکی سپین زر ارزانه دی ددی وجه څخه نصاب په عام طور سره کله په څلویښت روپو سره اوکله په **۵۲** نیمو تولو سره وی، مګر په اوس وخت کی د**۵۲** نیمو تولو سپینو زرو قیمت څه لوړ دری روپی دتولی په حساب کیږی ددی دپاره داویل پکار دی چی دهغه سره داصلی حاجتونو څخه علاوه څه روپی پاته وی نوهغه دنصاب مالك دی په اوس وخت کی دڅلویښتو روپو په ګینه کی زکات واجب نه دی. والله اعلم ظفیر

کله چی دا معلومه نه وی چی دی دڅه وخت څخه دنصاب مالک سوی دی نو څه به کوی؟

سوال: (**۵**) دیوصاحب پلار بزرګوار وفات سو او دهغه په برخه کی پرتهولو نورو شیانو لړ ګینه هم وه اودومره اندازه وه چی پر هغه زکات نه فرض کیدی، څوورځی وروسته دوی نوره ګینه جوړه کړه په هغه کی یې شامله کړه اوځه زیورات دهغه داولادپه هغه کی شامل وه چی ټول (**۹۵**) تولی سوه اوپوره معلومه نه وه ددوو کالو یا دڅلورو کالو راهیسی دا (**۹۵**) تولی وه ، نودابه اوس دهغه مخکی کلونو زکات هم ادا کوی اوکه نه ددی کال؟

جواب: په غالب ګمان سره به دهغه وخت څخه هغه زیورات (**۹۵**) تولی وی اوددغه وخت څخه یې زکاة اداء کول په کاردی او دتیرو کلونو زکات به هم اداء کړی اودغالب ګمان څخه دی فکر وکړی اویا دی دنښو اوعلامو څخه اندازه ولګوی اواحتیاطًا دی موده څه زیاته حساب کړی مثلاً که چیری یې په دوه نیم کاله کی ګمان وی نوددری کالو فکر دی وکړی اوددری کالو زکات دی ورکړی، په همدی قیاس سره که څه زیات ورکی نوښه ده، اوثواب یې زیات دی اودکم شمیرلو په صورة کی دعتاب بیره ده او دټولو موجوده زیوراتو زکات دی ورکړی په حساب ددوو نیمو روپو په سلو کی (٢). فقط

دلور په روپو کی زکاة: سوال: (٦\١١) دلور پرروپو باندی چی کمی دوست ورکړی وی زکاة سته اوکه نه؟

په هرقسم مال کی په جلا جلا وختونو کی زکاة ورکول درست دی اوکه نه؟ سوال: (٧\١٢) دمال په ټولو قسمونوکی زکات ورکول په علیحده وختونو کی درست دی اوکه نه؟

که چاته کتابونه احسانًا ورکول سوی وی نوپه هغه کی زکاة سته اوکه نه؟ سوال: (٨\١٣) څه کتابونه یې واخیستل اوڅه کتابونه ورته مروةً ورکول سوه نوپه هغه کی زکاة سته که نه؟

---

(١). وتجب علی الفور عند تمام الحول الخ (عالمګیری کتاب الزکوٰۃ ماجدیه ج١ ص ١٧٠). ظفیر

(٢). ای سبب افتراضها ملك نصاب حولی الخ تام الخ اوشرط افتراض ادائها حولان الحول وهوفی ملکه وتنمیة المال کالدراهم والدنانیر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج٢ ص ٢ وج٢ ص١٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢۵٩). ظفیر

په قرض حسنه کی زکاة ورکول: **سوال**: (۹\۱۴) که یوسړی بل چاته روپی په قرض حسنه سره ورکړی نوپه هغه کی زکاة سته اوکه نه؟

جواب: ۱\. په ده باندی زکاة واجب دی ([1]).

۲\. په علیحده علیحده وختونوکی دجلا جلا سامان اواسبابونو زکاة ورکول درست دی.

۳\. که چیری په اصل کی هغه کتابونه دتجارت دپاره وو، نوکه چاته یې مروةً بغیر دقیمت څخه هم ورکی نوزکاة پرده باندی لازم دی ([2]).

۴\. وروسته دوصول کولو څخه دی ددی زکاة اداء کړی، اوکه مخکی دوصول کولو څخه یې زکاة اداء کی نوهم صحیح ده. ([3]) فقط

دچا سره چی صرف پنځه سوه روپی وی پرهغه زکاة سته اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰) دزید سره پنځه سوه روپی وی لیکن نه یې مکان سته اونه مقروض دی اونه بل جائداد او روزگار کوی اوپه هغه گذاره کوی، په مذکوره روپو باندی دکور دجوړولو اراده لری. نو آیا په دی مال کی په زید باندی زکاة واجب دی اوکه نه؟

جواب: په دی کی زکوٰة واجب دی هرکال دکال په تیریدلو سره زکاة ورکول فرض دی ([4]). فقط

مهر دزکاة مانع نه دی: **سوال**: (۱۱) دیوه سړی سره دمثال په توگه لس زره روپی دی چی په هغه باندی دزکاة روپی دوه نیم سوه روپی کیږی مگر په ده باندی دښځی پنځه زره روپی قرض دی، ددی وجه څخه یې (۱۲۵) روپی زکاة ورکی آیا داصحیح دی؟ اوکه په دی کی کمی او زیاتی سته؟ دوهمه خبره ددی څخه سخته ده دزکاة اداء کول یې په خیال کی نه دی راغلی اوپوره دلسو زکاة یې ورکړیدی کم رقم چی یې زیاتی ورکړی دی داپه څه طریقه لاس ته راوړی یا څوکاله زکاة اداء نه کړی ترڅو چی پوره یې نه وی وصول کړی گویا چی پیشکی اداء سوی وی حیلی ته ضرورت نسته دعذاب څرك به یې پاته نه سی؟

([1]). الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ المسلم اذاملك نصابا تاما وحال علیه الحول (هدایه کتاب الزکوٰة ج۱ ص ۱۲۷). ظفیر

([2]). وفی عرض تجارة قیمة نصاب الخ ربع عشر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکاة المال ج۲ ص ۴۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۹۸) . ظفیر

([3]). ولوکان الدین علی مقر الخ فوصل الی ملکه لزم زکاة مامضی (ایضا کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۰۲). ظفیر

([4]). الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ المسلم اذا ملك مائتین وحال علیه الحول ففیها خمسة دراهم الخ (ایضا ج۱ ص ۱۷۲). ظفیر

جواب: موجل مهر لکه څنګه چی اوس عموماً رواج دی دصحیح مذهب موافق دزکاة مانع نه دی یعنی داقرض مؤجل دمهر دی دموجوده روپی څخه نه وضع کوی بلکی په ټولو موجوده روپو کی زکاة ورکول ضروری دی وروسته کله چی دده سره لس زره روپی مثلاً موجودی دی، اوپنځه زره دښځی دموجل مهر قرض دده په ذمه دی نودا سړی به دپوره لس زره روپو زکاة دوه نیم سوه روپی اداء کړی (١) لهذا چی کله یې دلس زره روپو زکاة وایستی چی دوه نیم سوه روپی دی هغه پوره زکاة دی په دی کی یې دزکاة څخه څه زیات نه دی ورکړی چی ددی دپاره دواپسی څه حیله ضروری وی یادی په ائنده کی زکاة نه ورکوی چی په هغه کی یې حساب کړی. په شامی کی یې دمهر موجل په قرض کی بحث لیکلی دی اوپه دغه کی وایې چی، والصحیح انه غیر مانع (٢). فقط

دامانت روپو څخه زکاة اداء کول کیږي: **سوال**: (١٢) دزید سره دعمر څه روپی امانت پرتی وی عمر بل چیری ولاړی اوزید ته یې ولیکل چی زما دامانت څخه دزکاة فریضه اداء کړه، زید دهغه مذکوره روپو حساب وکی اوپه طریقه یې تقسیم کی چی دواجب الاداء روپو قیمت څخه یې څه دینی کتابونه واخیستل اودزکاة په مصرف کی یې ورکړل اوڅه یې نغدی اداء کړی. دا وکالت جائز دی؟ او زکاة اداء سو اوکه نه؟

جواب: په دی طریقه باندی دزکاة ورکول صحیح دی اودعمر (دمال) زکاة اداء سو. لصحة الوکالة (٣). فقط

دټکټ او دنوټ څخه زکات اداء کیږي اوکه نه؟ **سوال**: (١٣) که چیری ټکټ یا نوټ دزکاة په حساب کی ورکول سی نوزکاة اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: نوټ ته وثیقه ویل کیږی نودهغه وخت په نوټ ورکولو سره زکاة اداء کیږی چی معطی له نغد زر دهغه په عوض ونیسی حاصل دهغه دادی چی دمال زکاة باید اداء کړی. نوټ اوټکټ مال نه دی (٤). فقط

---

(١). فارغ عن دین له مطالب من جهة العباد سواء کان لله کزکاة وخراج او للعبد ولو کفالة او مؤجلا ولو صداق زوجته المؤجّل (درمختار) والصحیح انه غیر مانع (ردالمحتار کتاب الزکاة ج ٢ ص ٢ - ٧ ، ط. س. ج ٢ ص ٢٢٠). ظ

(٢). ردالمحتار کتاب الزکاة ج ٢ ص ٧ ، ط. س. ج ٢ ص ٢٢١. ظفیر

(٣). وشرط صحة ادائها نیة مقارنة له ای للاداء ولو کانت المقارنة حکما (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٨). ظفیر

(۴). وجاز دفع القیمة فی زکاة وعشر وخراج ونذر وفطرةٍ (ایضا باب زکاة الغنم ج٢ ص٢٩ ط. س. ج٢ ص٢٨٥) دا چی مفتی صاحبؒ نوټ او ټیکټ دمال څخه خارج کړیدی دغور کولو وړده ، په تېره بیا په دې زمانه کی چی دزرو سیکه او پیسې هیڅ ځای نه دی موجودی ، ټول کاروبار په حکومت او رعیت دواړو کی پر نوټ باندی موقوفه دی. والله اعلم . ظفیر

زکاة به هرکال ورکوي: **سوال**: (۱۴) کله چې دمال زکوٰة یوکال ورکړی نوددی مال څخه به په دوهم کال بیاهم زکاة اداء کوی اوکه نه؟ کله چې ددی مال څخه څه فائده نه وی سوی اونه یې باندی کم تجارت کړی وی؟

جواب: دکمو روپو یادزیوراتو چې یې یوکال زکاة ورکړی کله چې یې دوهم کال پوره سی نوبیایې زکاة ورکول لازم دی، او هرکال یې زکاة ورکول واجب دی چې اداء سی برابره خبره ده چې په دی روپو ګټه سوی وی اوکه نه وی سوی (۱). فقط

ښځه بغیر دخاوند دخبرولو څخه دخپلو زیوارتو اودسامان زکاة ورکولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۵) دکمی ښځی چې ګینه اوسامان وی نو دخاوند داجازی څخه بغیر یې زکاة اداء کولی سی اوکه نه؟

جواب: ګینه اوسامان دښځی ملکیت دی (۲)، ددی زکاة دښځی په ذمه لازم دی دخاوند څخه داجازی اخیستلو اویا دهغه دخبرولو ضرورت نسته. فقط

په امین باندی دامانت په مال کی زکاة سته اوکه نه؟ سوال: (۱٦) دسړی څخه پاته سوی مال چې تراوسه په وارثانو نه دی تقسیم سوی اودامین دتصرف لاندی دی اوټول وارثان بالغ دی دبعضو برخی مقرردی اودبعضو لا تراوسه نه دی مقرر سوی په دی مناقشه کی کال تیرسو، نوپه دی صورة کی ددی مال زکاة په امین باندی واجب دی اوکه نه؟

جواب: دمال زکاة دمالکانو پرذمه باندی لازم دی دامین په ذمه باندی زکاة نسته، که چیری هغه مال سره زر اوسپین زروی نوپه وارثانو باندی دخپلی برخی په اندازه زکاة لازم دی کم وخت چې هغه ته دهغی حصه ورسیږی او دزکاة مال دنصاب په اندازه چې دهغه سره وی نو دتیری سوی زمانی زکاة هم دهغه پرذمه دی، فی الدرالمختار الا الذهب والفضة والسائمة لما فی الخانیة لورث سائمة لزمه زکوٰة بعد حول نواه اولا الخ (۳)، فقط

دساتلو دپاره یې څه روپی چاته ورکړی نوپه هغه زکاة دکم وخت څخه دی؟ سوال: (۱۷) زید خپل ورور عمر ته پنځه سوه روپی دحفاظت په خاطر ورکړی او ورته یې وویل چې که ته

---

(۱). وشرط ای شرط افتراض ادائها حولان الحول وهوفی ملکه وتنمیة المال الدراهم والدنانیر لعینها للتجارة باصل الخلقة فتلزم الزکوٰة کیفها امسکهما (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۷). ظفیر

(۲). جهز ابنه بجهاز وسلمها ذالك لیس له الاسترداد منها ولا لورثة بعده ان سلمها ذالك فی صحته بل تختص به وبه یفتیٰ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۵۳ ، ط. س. ج۳ ص ۱۵۵). ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۳. ظفیر

غواړی چی په خپل کاروبار کی یې لګوی ګټه کوی اوکه تاوان اوکه همداسی یې دځان سره ږدی، عمر څلور کاله وروسته دزید په اجازی سره یومکان داوسیدلو دپاره دزید دپاره واخیستی چی پنځه سوه روپی دهغه وی اوسل روپی یې دخپل طرف څخه په قیمت کی ورکړی، په زید باندی ددی څلورو کلونو زکاۃ واجب دی اوکه نه؟ اویوائی ددی پنځو سوو روپو زکاۃ باندی واجب دی اوکه نه څه حکم لری؟

جواب: ددی څلورو کالو زکاۃ واجب دی اویوائی دپنځو سوو روپو زکاۃ به ورکوی (١). فقط

دمدرسی په چنده کی زکاۃ واجب نه دی: **سوال**: (١٨) دمدرسی په چنده باندی څوکاله تیرسوه نوپه هغه باندی زکاۃ واجب دی اوکه نه دی؟

جواب: دمدرسی چنده که دنصاب په اندازه جمعه سی، اوکال باندی تیرسی نوپه هغه کی زکاۃ نسته (٢). فقط

دحرام مال څخه زکاۃ ورکول څنګه دی؟ سوال: (١٩) دحرام مال څخه زکاۃ ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: ټول حرام مال دخیرات کولو په شرط لازم دی په دی کی زکاۃ نسته مګر چی حرام مال مخلوط سی نودملکیت موجب دی په دی وخت کی پکښی زکات هم لازم دی (٣). فقط

دمکان په مالیت کی زکاۃ دی اوکه نه دهغه په آمدنی باندی؟ سوال: (٢٠\١١) دزید سره دمزکی دمال څخه یولك روپی دی چی دهغه آمدنی څلور سوه یوه روپی کرایه ده په میاشت کی، نوزکاۃ دمالیت څخه ورکړی اوکه نه دآمدنی څخه؟

په ګرو اونغدو کی زکاۃ سته اوکه نه؟ سوال: (٢١\١٢) دجائداد اودکرایه دامدنی څخه علاوه ګرو اونغدی هم سته په دی باندی علحیده زکاۃ ورکول دی اوکه نه؟

---

(١). ولوكان الدين على مقر الخ فوصل الى ملكه لزم زكوٰة مامضى (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٦) . ظفير

(٢). وسببه اى سبب افتراضها ملك نصاب حولى (درمختار) قوله ملك نصاب فلا زكوٰة فى سوائم الوقف والخيل المسبلة لعدم الملك (ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٥٩). ظفير

(٣). ولوخلط السلطان المال المغصوب بماله ملكه فتجب الزكاة فيه ويورث عنه لان الخلط استهلاك إذا لم يمكن تمييزه عند أبي حنيفة، وقوله أرفق إذ قلما يخلو مال عن غصب، وهذا إذا كان له مال غير ما استهلكه بالخلط منفصل عنه يوفي دينه، وإلا فلا زكاة، كما لو كان الكل خبيثا كما في النهر (درمختار) في القنية لو كان الخبيث نصابا لا تلزمه الزكاة لان الكل واجب التصدق عليه فلا يفيد ايجاب التصدق ببعضه (ردالمحتار باب زكوٰة الغنم قبيل مطلب فى التصدق من المال الحرام ج٢ ص ٣٣ – ٣٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٠). ظفير

زکاة دکم حساب څخه ورکول کیږي اودځه وخت څخه؟ سوال: (۲۲\۱۳) زکوٰة دکم نرخ څخه اودکم وخت څخه اودکمی میاشتی څخه ورکول په کاردی؟

جواب: ۱\۱. دمزکی او دجائیداد په مالیت کی زکاة نسته بلکی که کرایه اونور مال آمدنی راجمعه سی او دمصرف او دنورو ضرورتونو څخه وروسته دکال تر پوره کیدلو باقی وی په هغه باندی زکاة واجب دی (۱).

۲,۳: اوپه ګرو اونغدو باندی هم زکاة واجب دی، دزکاة تشریح داده چی دروپی ځلوېښتمه برخه اودګرو وغیره هم ځلوېښتمه روپی ورکول واجب دی یعنی په سلو کی دوی نیمی روپی (۲). فقط

دښځي په نصاب مالک کیدلو سره خاوند دنصاب نه مالک کیږي: **سوال**: (۲۳) ښځه که دنصاب خاونده سی نوپه دغه وجه سره خاوند هم دنصاب مالك ګڼل کیږی اوکه نه؟ او زکاة اوقربانی دچاپه ذمه دی؟

جواب: دښځی دنصاب په مالك کیدلو سره خاوند دنصاب مالك نه ګرځی اوقربانی وغیره دده په ذمه واجب نه دی (۳). فقط

قرضدارچي خپله آمدني هم لري په هغه باندي زکاة سته اوکه نه؟ سوال: (۲۴) دیوسړی په ذمه دوه زره روپی قرض دی اوڅه سرمایه او آمدنی هم لری خوهغه دقرض څخه لږدی، نوپه دی کی زکاة واجب دی اوکه نه دی؟

جواب: کله چی قرض دده په غاړه دی دسرمایې او دآمدنی څخه زیات دی نو زکاة په ده باندی واجب نه دی (۴). فقط

دصاحب نصاب تعریف: **سوال**: (۲۵\۱۱) صاحب نصاب چاته ویل کیږی؟

که دچاسره (۳۶) تولي سپین زر اوپنځه تولي سره زروي هغه دنصاب خاوند دي اوکه نه دي؟

سوال: (۱۲\ ۲۲) که چیری دیوسړی سره ۳۲ تولی ۵ ماشی ۴ رتی سپین زر، یا (۵) تولی (۲) ماشی (۴) رتی سره زر وی نوهغه دنصاب مالك کیدلی سی اوکه نه؟

---

(۱). ولا زکاة علی مکاتب واثاث المنزل ودور السکنٰی ونحوها (درمختار) قوله ونحوها کثیاب البدن الغیر المحتاج الیها کالحوانیت والعقارات (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۱ ص ۱۰ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۵). ظفیر

(۲). نصاب الذهب عشرون مثقالا والفضة مائتان درهم الخ واللازم فی مضروب کل منهما ومعموله ولو تبرًا وعلیا مطلقا وفی عرض تجارة قیمة نصاب الخ هن ذهب او ورق الخ ربع عشر (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب زکوٰة المال ج۲ ص ۳۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۹۵) . ظفیر

(۳). الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ المسلم اذاملك نصابًا ملکًا تامًا وحال علیه الحول الخ (هدایه کتاب الزکوٰة ج۱ ص ۱۲۷) . ظفیر

(۴). ومن کان علیه دین یحیط بماله فلا زکوٰة علیه (هدایه کتاب الزکوٰة ج۱ ص ۱۲۸) . ظفیر

سوال: (٣\.....) تمليك څه ته وايي؟

جواب: ٣\،١،٢،١: دسپينو زرو نصاب **٥٢** نيمي تولى دى اودسروزرو نصاب **٧** نيمي تولي دي نودچا سره چي ددی څخه کم سپين زر ياسره زر وی هغه دنصاب خاوند نه دی (١) اودتمليك معنٰی بل مالك جوړول دی. فقط

دمدرسی دمهتمم سره چي دمدرسی کم رقم جمعه سوی وی په هغه کی زکاة نسته: **سوال**: (٢٧) دمدرسی دمهتمم سره چي دمدرسی کم رقم جمعه سوی وی په هغه کی زکاة فرض کيږی اوکه نه؟

جواب: په دی کی زکاة فرض نه دی (٢). فقط

دقرض زکاة دوصولولو څخه وروسته اداء کيږي: **سوال**: (٢٨) يوسړی قرض حسنه ورکړه نوپه دی کی زکاة ورکول په کاردی اوکه نه؟ اوبعضی داسی وی چي دهغه په بدله کی يې څه زيورات گرو (رهن) کړی وی اوبعضی داسی وی چي دهغه په عوض کی يې هيڅ زيورات نه وی اينبی، څه حکم دی؟ که چيری دچاسره څه روپی جمعه سی ددی زکاة يې ورکړی وی اوهميشه کال په کال څه نوری روپی هم لاس ته راځی اوجمع يې يږدی مگر دا وروستنی روپی چي دومره نه دی چي په مخکی کی څه شمارل سوی زياتی وکړی، نوکه ددغه جمع سوی روپيو څخه هميشه زکاة ورکوی نو شايد داسی وخت راسی چي په زکاة ايستلو سره دومره پاته سی چي دنصاب څخه کمی سی ددی شبهی په جواب کی مهربانی وکړی؟

جواب: قرض چي يې ورکړی وی که هغه يوازی يادنورو روپو سره يوځای سی اودنصاب اندازی ته ورسيږی نوپه هغه باندی زکاة واجب دی ليکن دزکاة اداء وروسته دوصولولو څخه لازمی ده، اوکه چيری مخکی دوصولولو څخه هم زکات اداء کړی نو اداء کيږی او هغه قرض چي دهغه په عوض کی څه گرو اينبی دی اوهغه قرض چي دهغه په عوض کی څه گرو نه وی دزکاة په حکم کی دواړه برابردی په دواړو کی دقرض دوصولولو څخه وروسته زکاة لازم دی (٣)، اوهغه شبهه چي تاسی ليکلی ده دهغه جواب دادی چي

---

(١). ليس فيما دون مائتی درهم صدقة فاذا كانت مائتين وحال عليه الحول ففيها خمسة دراهم الخ ليس فيما دون عشرين مثقالا من ذهب صدقة فاذا كانت عشرين ففيها نصف مثقال (هدايه باب زكوٰة المال ج١ ص **١٧٢** – **١٧٧**) . ظفير

(٢). وسببه ای سبب افتراضها ملك نصاب حولی (درمختار) قوله ملك نصاب فلا زكوٰة فی سوائم الوقف والخليل المسبلة لعدم الملك (ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج ٢ ص ٩ ، ط. س. ج٢ ص **٢٥٩**). ظفير

(٣). فتجب زكوٰتها اذا اتم نصابا وحال الحول لكن لافوراً بل عند قبض اربعين درهمًا من الدين القوی كقرض وبدل مال تجارة (درمختار) اذا تم نصابا، الضمير فی تم يعود للدين المفهوم من الديون والمراد اذا بلغ نصابا =

دجمعه سوو روپو څخه به زکاة ورکوی خوچی کله دنصاب څخه کمی سی نوپه دی وخت کی به ورڅخه زکاة په ائنده کی ساقط سی اوترڅو پوری چی دنصاب په اندازه روپی باقی موجودی وی نودزکاة وجوب پکښی دعقل خلاف نه دی ځکه چی کم سړی دنصاب مالك وی نوهغه شرعًا اوعرفًا غنی شمیرل کیږی (١). او دمالدارو دپاره دمحتاجانو خبر ګیری اوهغوی ته څه ورکول دانسانیت او دعقل تقاضٰی ده (٢).

دګروی په ذریعه چی کم قرض واخلی که چیری هغه ټول کال ایښوول سوی وی نوپه هغه باندی زکاة سته اوکه نه؟ سوال: (٢٩) که یو سړی سل روپی رهن (ګرو) کښیږدی اودا روپی یې تریوه کاله پوری ایښی وی اوپه دی نیت یې ایښی وی چی کیدی سی چی څه وخت دهغه داداء کولو ضرورت راسی، اوبعضی برخه ددی څخه په ضرورت باندی هم مصرفولی سی نوپه دی روپو زکاة واجبیږی اوکه نه؟

جواب: ددی سوال ښکاره مطلب دادی چی کم شخص سل روپی قرض واخیستی اوخپله مزکه یابل څه یې ګرو کښېښوول نوښکاره خبره ده چی داسړی دهغه څخه سل روپی اخیستی نوسل روپی قرض دی یامدیون دی اوپه مدیون باندی دقرض په اندازه زکاة واجب نه دی که چیری ددی سړی سره نورڅه روپی اوزیورات اونور څه غیر ددی روپو څخه په اندازه دنصاب نه وی نوپه دی روپو کی زکاة دده په ذمه واجب نه دی (٣).

که په مهر کی زیورات ورکړی نو دهغه زکاة دچاپه ذمه دی: **سوال**: (٣٠) دنکاح په وخت کی که دخاوند لخوا دښځی زیورات په مهرکی ورکړی نوددی زکاة دچاپه ذمه دی؟

جواب: کله چی هغه زیورات ښځی ته په مهر کی ورکول سی نوهغه یې مالکه سوه نوزکاة

= بنفسه اوبما عنده مما یتم به النصاب. (ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص ٤٧ ، ط. س. ج٢ ص ٣١٥) ظفیر

(١). الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ المسلم اذاملك نصابا تاما وحال علیه الحوال الخ ولابد من ملك مقدار النصاب لانه ﷺ قدر السبب به (هدایه کتاب الزکوٰة ج١ ص ١٢٧) . ظفیر

(٢). داسلام ددی قانون منشاء داهم معلومیږی چی خلګ روپی جمع کړی اوبیکاره یې پری نه ږدی بلکی هغه په کاروبار یا په فصل اومځکه کی ولګوی نوملك اوقوم ته فائده وی اوزکاةورباندی بارنه وی دنقد جمع کولو څخه دملك اودقام سراسر نقصان دی په هدایه کی دزیورو دزکاة په سلسله کی یې لیکلی دی چی: ان السبب مال نام ودلیل النماء موجود هوالاعداد للتجارة خلقة والدلیل هوالمعتبر (هدایه باب زکوٰة المال ج١ ص ١٧٧) دکم حاصل چی داسوه چی کله په دی روپو کی یاپه سرو اوسپینو کی دنمو اودزیاتیدو صلاحیت موجود دی نواوس که داتاسو وساتی اودکم کار دپاره چی دی هغه ورڅخه وانه اخلی نودا خو بیا دساتونکی قصوردی دزکاة دوجوب سبب زیادت نه دی . والله اعلم . ظفیر

(٣). کل دین له مطالب من جهة العباد یمنع وجوب الزکوٰة سواء کان الدین للعباد کالقرض وثمن البیع وضمان المتلفات وارش الجراحة وسواء کان الدین من النقود او المکمل اوالموزون الخ (عالمگیری مصری بولاق کتاب الزکوٰة ج١ ص ١٧٢) . ظفیر

ددی زیوراتو هم دهغې پرذمه باندی کیږی، نه دخاوند پرذمه [1].

دنَوته والا [2] په روپو کې زکاة: **سوال**: (۳۱\۱) زید زر روپۍ په نَوته ورکړی لس کاله وروسته یې وصول کړی نوڅه حکم لری؟

زر روپۍ وی مګر پنځه سوه دنَوته باقی پاته دی نوپه دی باندی څومره زکاة دی؟ سوال: (۲,۳۲) دزید سره زر روپۍ دی اوپنځه سوه روپۍ دخپلوانو درواج له امله ورباندی نَوته ورکول دی نوپه دی صورة کی په څومره اندازه روپو کی زکاة ورکولی سی؟

جواب: \۱: په داسی روپوکی دزکاة دوصولولو څخه وروسته ورکول لازم دی، نه مخکی دوصولولو څخه. [3]

\۲. په دی صورة کی زید ته دزرو روپو زکاة ورکول لازم دی [4]. فقط

دزید مال دورونو په قبضه اودمور اودپلار په قبضه کی وو اوس دده په تصرف کی راغی نودی زکاة دکم وخت څخه ورکړی؟ سوال: (۳۳) دزید مال دده دوالدینو اودمشر ورور په قبضه

---

(۱). وشرط افتراض ادائها حولان الحول وهوفی ملك الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج۱ ص۱۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۷). ظفير

(۲). نَوتَه : په اُردو ژبه کی هغو پیسو ته ویل کیږی کمی چی دنکاح دعقد په وخت کی صاحبِ خانه ته په طور د رسم او رواج ورکول کیږی. حقانی

(۳). و (۴). دنیوته په سلسله کی اولنی بحث دادی چی آیا دا دقرض په حکم کی دی یا دهبی، که دقرض په حکم کی وی نو وروسته دوصول څخه دتیرو کلونو زکوٰة ورکول لازم دی دارکم چی دنیوته کم رقم پرذمه باندی باقی دی دزکاة دحساب په وخت به دغه رقم وضع سی او دباقی څخه په زکات لازم وی او دنیوته دقرض یاهبه دقرار ګرځولو مدار پررسم اورواج باندی دی په بعضو قومونوکی په طور دقرض دارقم ورکول کیږی اوحساب لیکل کیږی او وروسته دنکاح په موقع باندی په ضروری ډول وصول کیږی اوپه بعضی کورنیو کی حساب اوکتاب نه لیکل کیږی که ورکول سو نواخلی یی ورڅخه اوکه یې ورنه کړی نو ددی تذکره هم نه کیږی ګویا داپه طور دهبه وی. سئل فيما يرسله الشخص الى غيره فی الاعراس ونحوها هل يكون حكمه حكم القرض فيلزمه الوفاء به ام لا اجاب ان كان العرف بانهم يدفعونه علی وجه البدل يلزم الوفاء به مثليا فبمثله، وإن قيميا فبقيمته، وإن كان العرف خلاف ذلك بأن كانوا يدفعونه علي وجه الهبة ولا ينظرون في ذلك إلى إعطاء البدل فحكمه حكم الهبة في سائر أحكامه فلا رجوع فيه بعد الهلاك أو الاستهلاك، والاصل فيه أن المعروف عرفا كالمشروط شرطا آه (رد المحتار كتاب الهبة قبيل باب الرجوع ج۴ ص ۷۰۷) . دمفتی علامؒ ددواړو جوابونو څخه معلومیږی چی دویؒ هبه ګرځولی ده، که چیری دهبی په بدله کی هبه راغله نو اوس دی آئنده زکوٰة په شرط دنصاب پوره کیدو ورکړی اوکه نصاب پوره نه وی نو زکوٰة نسته او دنیوته کم مال چی پرذمه باندی دی دادهبی په حکم کی دی ددی وجهی څخه دا دنصاب په حساب کی نه راځی ددی وجه څخه فقهاء تصریح کوی فلا زكاة علی مكاتب الخ ومديون للعبد بقدر دينه فيزكی الزائد ان بلغ نصابا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتاركتاب الزكوٰة ج۲ ص ۸ – ۹) ولو كان الدين علی مقر ملی اومفلس الخ فوصل الی ملكه لزم زكاة مامضی (ج۲ ص۱۲) فتجب زكوتها اذا اتم نصابا وحال الحول لكن لا فورا بل عند قبض اربعين درهما من الدين القوی كقرض الخ (باب زكوٰة المال ج۲ ص۴۷ – ۴۸). محمد ظفير الدين غفر له

کی وو دبلوغ دوخت څخه چی اوس دزید عمر دوه ویشت کاله دی په دی وجه زید دخپل طرف څخه زکاة، قربانی اداء کړی نه ده اوس زید پرخپل ټول مال قابض اوقادر سوی دی اودخپلی ذمی څخه زکوٰة اوقربانی اداء کول غواړی نوڅه رکم یې اداء کړی؟ دکم وخت څخه اوترکمه پوری یې اداء کول په کاردی؟

جواب: په آئنده کی چی دکم وخت څخه مال دده په قبضه کی راغلی دی زکاة دی اداء کړی او دتیری سوی زمانی زکاة لازم نه دی ([1]). فقط

دحیلی په زریعه زکاة اخیستل درست دی اوکه نه؟ سوال: (۳۴) که چیری یومالدار دزکاة اخیستلو دپاره په یوه وجه حیله جوړه کړی لکه څنګه چی خپل مال دبڅی په ملکیت یا دبل چا لکه نابالغ زوی ملکیت جوړ کړی نوپه دی حیله صدقه واخلی آیا داحیله جوړول جائزدی اوصدقه اخیستل ورته حلال دی اوکه نه او دمصدق ذمه ساقطه سوه اوکه نه؟

جواب: په دی حیلی سره صدقه اخیستل ورته حلال کیدی سی مګر داحیله کروه ده، لانه لا زکوٰة علی الواهب اتفاقا لعدم الملك وهی من الحیل ومنها ان طلبه لطفله قبل اتمام بیوم درمختار ([2]). کتاب الزکوٰة. (اوپه کراهت اوپه عدم کراهت دحیله اسقاط دزکاة کی اختلاف بین الصاحبین مشهوره دی په شامی کی).

قال أبو یوسف: لا یکره لانه امتناع عن الوجوب، لا إبطال حق الغیر. وفي المحیط أنه الاصح. وقال محمد: یکره، واختاره الشیخ حمید الدین الضریر، لان فیه إضرارا بالفقراء (الی ان قال) وقیل الفتوی في الشفعة علی قول أبي یوسف، وفي الزکاة علی قول محمد، وهذا تفصیل حسن. (شامی ج۲ ص ۲۷ باب زکوٰة الغنم)

په نصاب دزکوٰة کی مفتٰی به نصاب څه شی دی؟ سوال: (۳۵) دزکاة په حساب کی اختلاف دی مفتٰی به قول کم دی؟

جواب: داوو مثقالو دوزن دحساب څخه معلومه ده چی د ۵۲ نیمی تولو دسپینو زرو حساب دی ولی چی دوه سوه درهمه په وزن داوو ۷ دې اندازی ته رسیږی ([3]).

([1]). عند قبض مائتین منه لغیرها ای من بدل مال لغیر تجارة وهو المتوسط کثمن سائمة وعبید خدمة وهما مما هو مشغول بحوائجه الاصلیة کطعام وشراب واملاك ویعتبر ما مضٰی من الحول قبل قبض فی الاصح (درمختار) اما لمتوسط ففیه روایتان فی روایة الاصل تجب زکوٰة فیه ولا یلزمه اداء حتٰی یقبض مائتی درهم فیزکیها وفی روایة ابن سماعة عن ابی حنفة لا زکوٰة فیه حتٰی یقبض یحول علیه الحول لانه صار مال زکوٰة فان صار مال کالحادث ابتداء الخ وعلی روایة ابن سماعة یزکیها عن الماضی والاعن الحال الا یمضی حول جدید بعد القبض (ردالمحتار باب زکوٰة المال ج ص ۴۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۰۵). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب زکوٰة ج۲ ص ۵۱ ، ط. س. ص ج۲ ص ۳۲۴). ظفیر =

دکرایه په مکان باندی زکات سته اوکه نه؟ سوال: (۳۶) هغه مکان چی دهغه کرایه لس روپی دمیاشتی وی دهغه مکان په قیمت کی زکوٰۃ لازم دی اوکه نه؟

جواب: په قیمت دهغه مکان کی زکوٰۃ لازم نه دی مگر که کرایه یې دنصاب په اندازه جمعه سوه اوکال باندی تیرسو نو زکوٰۃ دهغه نغدو روپو واجب کیدلی سی ([1]).

دمهر روپی چی دخاوند په ذمه وی په هغه باندی زکوٰۃ سته اوکه نه؟ سوال: (۳۷) که دیوی ښځی مهر یونیم سل روپی وی، چونکه دخاوند سره یې روپی نسته په دی وجه یې دهغه مهر نه دی اداء کړی، آیاپه دی صورة کی دښځی په ذمه دمهر زکوٰۃ واجب دی اوکه نه؟

جواب: په هغې باندی مخکی دوصولولو څخه زکاۃ واجب نه دی ([2]). فقط

دکښت پرقیمت باندی زکوٰۃ نسته: سوال: (۳۸) دهندی سره لږ مځکه چی قیمت یې زر روپی دی نوپه دی باندی زکوٰۃ واجب دی اوکه نه؟ او دمزکی په قیمت کی زکاۃ دی اوکه په پیداوار کی؟

جواب: دمزکی په قیمت باندی زکاۃ نسته ([3]) مزکه که چیری عشری وی نودهغې پرآمدنی باندی یعنی څومره انداه غله چی دهغې څخه لاس ته راسی نوپه هغه کی عشریه لسمه حصه واجب ده اوکه چیری مزکه عشری نه وی نوبیا هیڅ څه واجب نه ([4]) دی.

په خوراک څښاک کولو سره دهغه سره دنصاب په اندازه څومره چی پاته وی دکال دتیریدلو څخه وروسته دی ددی زکاة ورکړی: سوال: (۳۹) دیو سړی (۴۲۰) روپی وی چی دخوراك څښاك څخه یې بچت کړی وی اوپر هغه باندی کال تیر سو نوهغه سړی به دڅلور سوه شپیتو روپو زکوٰۃ ورکوی اوکه دڅلور سوه.

جواب: دپوره څلورسوه او شپیتو ۴۲۰ روپو زکات دې وباسی. ([1])

([3]). نصاب الذهب عشرون مثقالا والفضة مائتا درهم کل عشر دراهم وزن سبعة مثاقیل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰۃ المال ج۲ ص ۳۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۹۵). ظفیر

([1]). ولا زکوٰۃ فی ثیاب البدن الخ ودور السکنٰی ونحوها (درمختار) ای کثیاب البدن الغیر المحتاج الیها وکا الحوانیت والعقارات (ردالمحتار کتاب زکوٰۃ ج۲ ص ۱۰ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۴ و۲۲۵) . ظفیر

([2]). وعند قبض ماتین مع حولان الحول بعده ای بعد القبض من دین ضعیف وهو بدل غیر مال کمهر ودیة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰۃ المال ج۲ ص ۴۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۰۵) . ظفیر

([3]). وشرطه ای شرط افتراض ادائها حولان الحول وهوفی ملکه وتنمیة المال کالدراهم والدنانیر لعینهما للتجارة باصل الخلقة الخ او السوم بقیده الاتی اونیة التجارة فی العروض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب زکوٰۃ ج۲ ص۱۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۵۹) . ظفیر

([4]). والنوع الثانی شرط المحلیة وان تکون عشریة فلا عشر فی الخارج من ارض الخراج الخ (عالمگیری مصری بولاق زکوٰۃ الزروع ج۱ ص ۱۸۵). ظفیر

دنغدو روپو او دمصرف او نورو زکوٰۃ په څه طریقه ورکړي؟ سوال: (۴۰) زید دوه سوه روپی ولګولی په تجارۃ کی یوکال وروسته یې حساب وکی نولاندی رقم یې دهغه سره وو، سل روپی نغدی دی او د (۱۲۵) روپو تخمینًا مال دی، دیو نیم سلو روپو مال یې په قرض خرځ کړیدی، آیا کم رقم نغدی چی دکال په اخر کی موجودی وی اوټول کال یې ددی مال څخه مصرف کړی دی نوپر دی زکوٰۃ سته اوکه نه؟

جواب: دکال په اخرکی چی څومره روپی نغدی یا دتجارت مال موجود دی پرټولو زکاۃ واجب دی اوکم رقم چی دنورو پرذمه قرض دی نوپرهغه هم زکوٰۃ سته لیکن دزکوٰۃ اداء کول به دهغه دوصولولو څخه وروسته وی ترڅو چی هغه رقم وصول سوی نه وی زکوٰۃ ساقط دی اومعاف دی اوکم مال چی ټول دکال دننه ختم سی دکال څخه یې مخکی خرڅ کی په هغه کی زکوٰۃ لازم نه دی، اوداستعمال شیان چی دتجارت په نیت نه وی اخیستی په هغه کی هم زکات نسته، البته په دی کی هغه شیان چی یې خرڅ کړه اودهغه قیمت یې په موجوده روپو کی شامل کړی وی په هغه کی دی زکوٰۃ ورکړی ([2]). فقط

هغه دنصاب خاوند چی پرهغه دمهر قرض وی اودا دده دمال څخه زیات وی نوپر ده باندی زکوٰۃ سته اوکه نه؟ سوال: (۴۱) یوشخص دنصاب مالك دی لیکن دهغه په ذمه دمهر قرض دی چی هغه دده دمال څخه زیات دی، آیا قرض دزکات مانع دی؟

جواب: صحیح داده چی دمهر قرض دزکاۃ مانع نه دی، زکوٰۃ باندی لازم دی، کما فی الشامی والصحیح انه غیر مانع، جلد ثانی ([3]).

دتیر سوی کال زکوٰۃ فرض دی: سوال: (۴۲\۱) هغه مال چی دنصاب مالك ته په تیر سوی کال کی حاصل سوی وی زکوٰۃ ورکول یې فرض دی اوکه نه؟

کم ځای چی په کرایه وی دهغه دزکاۃ څه طریقه ده؟ سوال: (۴۳\۱۲) دکم ځای کرایه چی دمیاشتی لس روپی وی، نوپه هغه زکوٰۃ سته اوکه نه؟

دمکان څخه چی کمه کرایه راسی په هغه زکوٰۃ: سوال: (۴۴\۱۳) دمکان مذکوره کرایه که د

([1]). واللازم فی مضروب کل منهما الخ وفی عرض التجارۃ قیمته نصاب الخ ربع وفی کل خمس بحسابه ففی کل اربعین درهما درهم وفی کل اربعة مثاقیل قیراطان ومابین الخمس الی الخمس عفو وقالا مازاد بحسابه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰۃ المال ج۲ ص ۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۹۷). ظفیر

([2]). ومن کان له نصاب فاستفاد في اثناء الحول من جنسه ضمه الیه وزکاه به الخ لان المجانسة هي العلة في الاولاد والارباح لان عندها یتعسر التمییز فیعسر اعتبار الحول لکل مستفاد وما شرط الحول الا للتیسیر (هدایه باب صدقة السوائم فصل فی الخیل ج۱ ص ۱۷۵) ولوکان الدین علی مقر الخ فوصل الی ملکه لزم زکوٰۃ ما مضٰی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج۲ ص ۱۲) . ظفیر

([3]). ردالمحتار کتاب زکوٰۃ تحت قول الماتن اوموجلا ج۲ ص ۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۱. ظفیر

نصاب په اندازه وی په هغه کی زکوٰة سته اوکه نه؟

زیورات چی پوره یې نه استعمالوی په هغه باندی زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (۱۴\ ۴۵) که سره زر اوسپین زر زیورات یې یوه میاشت یادوی میاشتی اینبی وی اودری میاشتی یادوی میاشتی مسلسل استعمال کړل یعنی وایې غوستل اوهغه زیورات دنصاب په اندازه وی بلکی زیات وی نوپه هغه باندی زکوٰة سته اوکه نه؟

جواب: \۱: په تیرسوی کال کی دحاصل سوی مال چی دنصاب خاوندوی زکوٰة ورکول یې فرض دی، ومن کان له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول من جنسه ضمه الیه، هدایه ص ۱۷۵.

\۲: دکم مکان کرایه چی دنصاب په اندازه ده دهغه په کرایه کی زکوٰة ورکولی سی اوپر مکان باندی زکوٰة نسته، ولا فی ثیاب البدن واثاث المنزل ودور السکنٰی ونحوها ای کثیاب البدن الغیر المحتاج الیها کالحوانیت والعقارات، شامی جلد ۲ ص ۸ مطبوعه هند.

\۳: کله چی روپی ددوو سوو درهمو برابری سی هرقسم چی وی که دمکان کرایه وی او که دمزکی، یادبلی کمی وجه څخه په ملکیت کی راسی اوپه هغه باندی کال هم تیرسی نو زکوٰة پکښې واجبیږی، لیس فی مادون ماتی درهم صدقة فاذا کان مائتین وحال علیها الحول ففیها خمسة دراهم، هدایه ص ۱۷۲.

\۴: دسرو زرو اودسپینو زرو زیورات چی کله دنصاب اندازی ته ورسیږی نوپه هغه کی زکوٰة واجب دی که هغه استعمالوی اوکه نه یې استعمالوی ، وفی تبرالذهب والفضة وحلیها واوانیها زکوٰة. هدایه ص ۱۷۷. فقط

په لاندینی ذکرسوی شیانو کی په کمو شیانو باندی زکوٰة دی؟ سوال: (۱\۴۶) دیوه سړی سره لاندی ذکر سوی شیان دی نو پرکمو کمو شیانو زکات راځی، دمزکی جائیداد، لوښی، څاروی، قیمتی زیورات، زر روپی، هرقسم غله، دوه زره نغدی اونور کورنی سامان.

پرقرضدار باندی زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (۲\۴۷) پرذکر سوی سړی باندی قرضه هم ده چی دموجوده نغدو څخه زیاته ده نوددومره قرضداری په حالت کی زکوٰة ورکول لازم دی؟

جواب: په دی ذکرسوی شیانو کی غیر دزیوراتو اودنغدو څخه اونور دکور په سامان کی زکوٰة لازم نه دی، په مزکه کی دشرطونو موافق عشر واجب دی اوپه څارویو کی که هغه

ځریدونکی وی دقاعدی مطابق پکښی زکوٰۃ واجب دی باقی داستعمال شیان لکه لوښی اودخوړلو غله کی زکوٰۃ نسته (۱). والتفصیل فی کتب الفقه. (۲)

۲۱: دقرضداری څخه دقرض په اندازه زکوٰۃ ساقط دی اودده خپل قرض چی پر چا دی نو دوصولولو څخه وروسته باندی دزکوٰۃ ورکول لازم دی. (۳) فقط

په اخیستل سوی قیمت باندی زکوٰۃ کیږی اوکه په موجوده نرخ باندی؟ سوال: (۴۸\۱\۱) دمال زکوٰۃ به په اخیستل سوی قیمت باندی وی اوکه په موجوده نرخ باندی؟

دکال په بحث باندی په کم حساب سره زکاۃ واجب دی؟ سوال: (۴۹\۲) دکال دنغدو پربچت باندی په کم حساب سره زکوٰۃ واجب دی؟

جواب: ۱\۱، ۲. دزکاۃ داداء کولو په وخت کی چی کم قیمت وی هغه ته اعتبار دی اودزکاۃ حساب دادی چی څلویښتمه حصه زکوٰۃ ورکول لازم دی. (۴)

دمالداره بچی په مال کی زکوٰۃ وی اوکه نه وی؟ سوال: (۵۰) دمالدار بچی په مال کی زکوٰۃ ددی دمال څخه ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: جائز نه دی. (۵) فقط

دښځی ګینه، دسپرلی آس او دقلبی په غوایانو کی زکوٰۃ سته اوکه نه؟ سوال: (۵۱) دښځی په زرو، دسپرلی په آس، او دکرهنی اوکښت ګری (قلبی) په غوایانو کی زکوٰۃ لازم دی اوکه نه؟

جواب: دښځی پر زرو باندی زکوٰۃ ورکول لازم دی (۶)، دسپرلی آس، او دزمینداری په اسبابو باندی زکوٰۃ نسته. (۷) فقط

---

(۱). ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج۲ ص ۱۰، ط. س. ج۲ ص۲۶۵. ظفیر

(۲). ولا في ثياب البدن المحتاج إليها لدفع الحر والبرد، وأثاث المنزل ودور السكنى ونحوها وشرطه أي شرط افتراض أدائها حولان الحول وهو في ملكه وتنمية المال كالدراهم والدنانير لتعينهما للتجارة بأصل الخلقة فتلزم الزكاة كيفما أمسكهما ولو للنفقة أو السوم بقيدها الآتي أو نية التجارة في العروض (الدر المختار على هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج۲ ص ۱۳، ط. س. ج۲ ص ۲۶۴) واللازم فی مضروب کل منهما ای الذهب والفضة ومعموله ولوتبرا اوحليا مطلقا (ايضا باب زکوٰۃ المال ج۲ ص ۴۱، ط. س. ج۲ ص ۲۹۷ و۲۹۸). ظفير

(۳). فلا زكاة على مكاتب الخ ومديون للعبد بقدر دينه فيزكى الزائد ان بلغ نصاباً (ايضا کتاب الزکوٰۃ ج۲ ص ۹، ط. س. ج۲ ص ۲۶۳) لوكان الدين على مقر الخ فوصل الى ملكه لزم زکوٰۃ مامضٰى (ايضا ج۲ ص ۱۲، ط. س. ج۲ ص ۲۶۲). ظفير

(۴). وتعتبر القيمة يوم الوجوب وقالا يوم الاداء اجماعا وهو الاصح ويقوم فى البلد الذى المال فيه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب زکوٰۃ الغنم ج۲ ص ۳۰، ط. س. ج۲ ص ۲۸۶). ظفير

(۵). وليس على الصبى والمجنون زکوٰۃ الخ لنا انها عبادة فلا تتادى الا بالاختيار تحقيقا لمعنٰى الابتلاء ولا اختيار لهما (هدايه کتاب الزکوٰۃ ج۱ ص ۱۶۸). ظفير [باقی]

که دبهار امارت شرعیه بیت المال ته دزکاة روپی ونه لیږی اوهم هلته یې تقسیم کړی نو ددی څه حکم دی؟ **سوال**: (۵۲\۱) دبهار او داړمیسه په صوبه کی دپټنه ضلع په پهلواری کی بیت المال او دشریعت امیر ټاکل سویدی مبلغین دزکاة او عشر را ټولولو دپاره لیږل کیږی خوداکثرو ځایونو څخه نه ترلاسه کیږی بلکی دهم هغه ځای پرحقدارانو، فقیرانو اومسکینانو باندی تقسیمیږی، بیت المال ته یې نه لیږی، نوآیا زکوٰۃ اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی زکوٰۃ اداء کیږی، قال الله تعالٰی انما الصدقات للفقراء والمساکین ([1])، الآیه.

دکور دسامان څخه مطلب کم، کم شیان دی؟ **سوال**: (۵۲\۲) په شریعت کی دکور دسامان اطلاق پرکمو کمو شیانو کیږی؟ آیاپه لوښو، او داغوستلو په جامو پرکالو باندی هم دکور دسامان اطلاق کیږی اوکه نه؟

جواب: داثاث البیت اطلاق پردی ټولو باندی کیږی ([2]). فقط

دزکاة نغدی روپی که چیری دخپلو روپو سره یوځای کړی اوزکاة ورڅخه په تدریجی توګه ورکړی نودا څنګه کیږی؟ **سوال**: (۵۳) څه رکم چی په نغدو کی تعین نسته نو که چیری دزکاة روپی په خپل مال کی ورګډی کړی اوبیا وخت په وخت دزکاة اودغیر زکوٰۃ داداء کولو په نیت یې ولګوی نودزکاة دخاوند زکوٰۃ څه وخت اداء کیږی په هغه وخت کی چی وکیل ته یې وسپاری اویا کله یې چی دمصرفولو دپاره ولیږی اوکه په هغه وخت کی چی وکیل یې دخپلو روپو سره یوځای کړی اودخیرات په نیت کی په زکوٰۃ اوغیر زکوٰۃ کی ولګوی دمثال په توګه سیدانو اویاپه نامعلوم غنی باندی یې ولګوی تردی پوری چی په څو درجو زیات یې دزکاة دپیسو څخه مصرف سوی نوزکاة اداء سو اوکه نه؟

جواب: په نغدو کی عدم تعین مطلقا نه دی بلکی په امانتونو اوصدقاتو اوپه نورو کی نغدی متعین دی لکه چی په اشباه اونظائر کی چی دی، لا یتعین فی المعاوضات الخ ویتعین فی الامانات والهبة والصدقة ([3])، اودغه رکم په شامی کی هم دی. نو دزکاة

([2]). وفی تبر الذهب والفضة وحلیهما واوانیهما الزکوٰۃ (هدایه باب زکوٰۃ المال ج۱ ص ۱۷۷). ظفیر

([7]). ولیس فی دور السکنی وثیاب البدن واثاث المنزل ودواب الرکوب وعبید الخدمة وسلاح الاستعمال زکوٰۃ لانها مشغولة بالحاجة الاصلیة لیست بنامیة ایضاً (هدایۀ کتاب الزکوٰۃ ج۱ ص۱۲۹ ط. س. ج۲ ص۲۲۵). ظفیر

([1]). لیکن ښه داده چی دشریعت دامیرپه واسطه ښکاره دزکاة مال اداسی اودنغدوزکوٰۃ پخپله هم ورکولی سی. ظ

([2]). ولوکان الدین علی مقر الخ فوصل الی ملکه لزم زکوٰۃ ما مضٰی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج۲ ص ۱۲ ط. س. ج۲ ص ۲۶۲). ظفیر

([3]). ولاثیاب البدن المحتاج الیها لدفع الحر والبرد واثاث المنزل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج۲ ص ۱۰ ، ط. س. ج۲ ص ۲۶۴) فلیس فی دور السکنٰی الخ وکذا طعام اهله ومایحتمل به من =

روپی دزکاة ورکوونکی داجازی څخه بغیر دخپل مال سره یوځای کول جائز نه دی، او د زکاة دمالك زکوٰة هغه وخت اداء کیږی چی دلګولو او دمصرفولو دپاره یې ولیږی اوکه چیری وکیل په خپلو روپوکی دموکل دزکاة روپی ورګډی کړی، نو که دا یوځای کول دموکل په اجازی سره وی نوکم وخت چی دزکاة روپی جلا سی اودزکاة په نیت دزکاة دخاوند دطرف څخه ورکول سی، په هم هغه وخت کی دده زکات اداء کیږی. اوکه وکیل دموکل داجازی څخه بغیر داسی کړی وی نودده زکاة نه اداء کیږی اوکم څه چی وکیل فقیرانو اونوروته ورکړی هغه دوکیل دطرف څخه هبه اوصدقه کیږی په درمختارکی دی:

ولوخلط زکوٰة موکلیة ضمن وکان متبرعًا قال فی الشامی قوله ضمن وکان متبرعًا الخ لانه ملکه بالخلط وصار مؤدیا مال لنفسه قال فی التتارخانیة الا اذا وجد الاذن او اجاز المالکان آه ای اجاز قبل الدفع الی الفقیر لما فی البحر لو ادی زکوٰة غیره بغیر امره فبلغه فاجاز لم یجز لانها وجدت نفاذاً علی المتصدق لانها ملکه ولم یصر نائبا عن غیره فنفذت علیه لٰکن قد یقال تجزی عن الامر مطلقا لبقاء الاذن بالدفع قال فی البحر ولو تصدق عنه بامره جاز الخ ثم قال فی التتارخانیة او وجدت دلالة الاذن بالخلط کما جرت العادة بالاذن من ارباب الحنطة نجلط ثمن الغلات الخ ([1]). فقط

<u>دکم خاص ضرورت دپاره چی روپی جمعه کړی په هغه باندی دزکاة حکم</u>: سوال: (**۵۴**) که چیری یوسړی خپل ډیر ضرورتونه بندکړی اودیوه خاص ضرورت دپاره روپی جمعه کړی نوپه دی روپو باندی زکوٰة سته اوکه نه؟

جواب: دکال دتیریدلو څخه وروستهورباندی زکوٰة واجب دی ([2]). فقط

<u>وکیل چی یوبل مستحق ته زکوٰة ورکړی، نوددی څه حکم دی؟</u> سوال: (**۵۵**) که چیری زید عمر خپل وکیل جوړکی دیوخاص مستحق دزکاة په ورکولو باندی دمثال په توګه خالد ته په ورکولو یې وکیل مقررکی، نوکه چیری عمر دخالد په ځای بکر ته چی داهم دزکاة مستحق وو، زکوٰة ورکی، نو دزید زکوٰة اداء سو اوکه نه؟

جواب: په شامی کی دی، وهذا حیث لم یامره بالدفع الی معین اذا لوخالف ففیه قولان حکاهما فی القنیة. ([3]) الخ. حاصل دادی چی په دی کی دوه قوله دی، یوقول دادی چی

= الاوانی اذالم یکن من الذهب والفضة الخ والات المحترفین (عالمگیری کشوری کتاب زکوٰة ج۱ ص ۱۷۰ ، ماجدیه ج۱ ص ۱۷۲). ظفیر

([1]). الاشباه والنظائر ص ..... . ظفیر

([2]). ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۹. ظفیر

[باقی]

زکوٰة يې اداء کيږي اوبل دادی چی زکوٰة يې نه دی اداء سوی، او وکيل ضامن ګرځی، نو احتياط دادی چی بل ته دی نه ورکوی بلکه هغه ته به يې ورکوی کم چی موکل ورته معين کړی اوتاکلی دی (١). فقط

شل زره روپی قرض لری خو اضافه نوری نلری نوزکاة باندی واجب دی اوکه نه؟ سوال: (۵۶) زيد په بمبی کی درخت په يوه کمپنی کی دشلو زرو روپو يوه برخه په قرض واخيسته په دی وخت کی په زيد باندی زکوٰة فرض دی اوکه نه؟ کله چی دقرض دخلاصولو دپاره ورسره هيڅ اضافه بچت روپی نه وی؟

جواب: په دی صورة کی چی دموجوده مال په اندازه دده پرذمه باندی قرض وی اواضافه نور هيڅ ونه لری نوپه ده باندی زکوٰة واجب نه دی (٢). فقط

که ديوکال زکوٰة ورنه کړی نوبل کال به دی څه کوی؟ سوال: (۵۷) که چيری يو سړی چی دنصاب مالك وی ديوکال دزکاة ورکولو څخه دغفلت په وجه قاصر پاته سی نودبل کال دحساب څخه به څنګه زکاة ورکوی؟

جواب: دا کال به دسږ کال اودتير کال زکوٰة ورکړی اوحساب يې دادی چی تير کال ختم سی نوروپی به يې حساب کړی چی په کمه اندازه مال دده سره دی نوزکاة به يې ورکړی، اوسږ کال دکال په اخرکی چی دده سره څومره روپی اونور څه وی دهغه به زکاة ورکړی (٣). فقط

ښځی ته چی مور او پلار ګينه ورکی نو ددی زکوٰة پردی ښځه باندی دی اوکه ددی په خاوند باندی؟ سوال: (۵۸) دزيد ښځی ته ګينه دهغه مور اوپلار ورکړيده نوددی زکوٰة په زيد دی اوکه په دی ښځه باندی؟ دزيد آمدنی دومره نه ده چی هغه زکوٰة ترينه ورکړی اوکله چی دزيد ګټه وټه وسی نوده ته معلومه نه ده چی ګينه څومره ده، آيا دزکاة داندازی څخه يې ورکړی اوکه چيری دڅو کالو دزکاة حساب وکړی اودده دآمدنی څخه زياته وی نوپه متفرقه توګه يې ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: زکوٰة دزيد دښځی پرذمه باندی دی هغه به يې اداء کوی، دزيد پرذمه باندی دهغه

---

(٣). ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١۵ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٩. ظفير

(١). وهنا الوکيل انما يستفيد التصرف من الموکل وقد امره بالدفع الی فلان يملك الدفع الی غيره کما لواوصی لزيد بکذا ليس للوصی الدفع الی غيره (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١۵ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٩). ظفير

(٢). فلازکوٰة علی مکاتب الخ ومديون للعبد بقدر دينه فيزکی الزائد ان بلغ نصابا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الزکوٰة ج٢ ص ٨ ، ط. س. وج٢ ص ٢٦٣). ظفير

(٣). وافتراضها عمری ای علی التراخی وصححه الباقانی وغيره وقيل فوری ای واجب علی الفور وعليه الفتوٰی فياثم بتاخيرها بلاعذر وترد شهادته (ايضا ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفير

اداء کول لازم نه دی اوکله چی الله ﷻ زید ته مالی پراخی ورکړی اودی دښځی دطرف څخه دزکاة اداء کول غواړی، نودی یې هم ورکولی سی اوګینی څخه به اندازه ولګوی او دهغه په اندازه به زکاة ځینی ورکړی اودځو کالو زکوٰة په متفرقه توګه لږ، ورکول هم درست دی اوصحیح دی (١). فقط

چی مور دزرو مالکه جوړه کړی نوزکاة پرچا باندی دی؟ سوال: (٥٩) یوسړی خپلی مورته ګینه جوړه کړه اودهغه ټول اختیارات یې هغې ته ورکړه نوددی زکوٰة په مور باندی عائد کیږی اوکه نه په زوی باندی؟

جواب: کله چی ده ګینه دخپلی مور ملکیت وګرځوله نوددی زکوٰة دده دمور پرذمه باندی واجب دی (٢) اوکه زوی یې وغواړی نو دهغه دطرف څخه یې ورکولی اواداء کولی سی. فقط

دکال پوره کیدو څخه چی دوی دری میاشتی وروسته په تاخیر سره دزکاة روپی ورکړی نو دا څنګه دی؟ سوال: (٦٠) درمضان په تیره میاشت کی زکوٰة واجب الاداء وو لیکن دګتی وټی روپی دوی دری میاشتی وروسته لاس ته ورځی، نودغه وقفه کول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: هو! داوقفه کول صحیح اودرست دی (٣). فقط

دمزکی قیمت دنصاب په اندازه دی خوحاصلات نه لری اعتبار څه شی ته دی؟ سوال: (٦١) یوسړی دومره مځکه لری چی قیمت یې دقربانی او دسرسایې دنصاب څخه زیات وی لیکن کلنی حاصلات یې دنصاب اندازی ته نه رسیږی، نوپه دی صورة کی کم جهت معتبر او داعتماد وړدی دقیمت طرف اوکه دحاصلاتو؟

جواب: په دې صورة کی دامام ابویوسف اوامام محمد رحمهما الله په مابین کی اختلاف دی، امام محمد رحمه الله فرمایې چی دغه رکم ذکرسوی نصاب دزکاة داخیستلو مانع نه دی، سرسایه اوقربانیورباندی واجب نه ده، اوامام ابویوسف رحمه الله ذکر سوی نصاب دزکاة داخیستلو مانع بولی اوپرده باندی سرسایه اوقربانی کول واجب ګنی اوګرانقدر

(١). وافتراضها عمری ای علی التراخی (درمختار) قال فی البدائع وعلیه عامة المشائخ ففی ای وقت ادی یکون مودیا للواجب (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفیر

(٢). الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ المسلم اذا ملك نصابا ملکا تاما اوحال علیه الحول (هدایه کتاب الزکوٰة ج١ ص ١٢٧ ، ط. س. ج٢ ص.......). ظفیر

(٣). وافتراضها عمری ای علی التراخی (درمختار) قال فی البدائع وعلیه عامة المشائخ ففی ای وقت ادی یکون مودیا للواجب (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفیر

استادانو دامام ابویوسف رحمه الله قول احوط گڼلی دی اوپه دی باندی یې عمل کول ښه کړیدی اودامام محمد رحمه الله په قول ډیر وسعت اوپراخی ده اوفقهاء وو په دی باندی فتوٰی ورکړیده: انه تجب علی کل مسلم ذی نصاب فاضل عن حاجة الاصلیة کدینه وحوائج عیاله وان لم یتم کمامر، وبه ای بهذا النصاب تحرم الصدقة وتجب الاضحیة الخ وذکر فی الفتاوٰی له حوانیت ودور الغلة لٰکن غلتها لا تکفیه ولعیاله انه فقیر ویحل له اخذ الصدقه عند محمد وعند ابی یوسف لا یحل ([1]). فقط

دشراکت دتجارتی مال څخه چې زکوٰة ایستل کیږی که چیری بل شریک یې ورنه کی نوددی څه حکم دی؟ سوال: (۲۲) تقریبًا شپږ کاله کیږی چې زید اوبکر په یوه دوکان کی شریک تجارت شروع کړیدی دشراکت کولو په وخت کی دزید او بکر په مینځ کی نه داسی معاهده وسوه چې زکوٰة به دخپلو خپلو روپو مطابق وباسی، په دی طریقه باندی څلور کاله عمل وسو، په یوه کال کی دوه زره روپی دزکاة په نوم ولګول سوی، دمعاهدی په اساس دزید پرذمه دوه سوه پنځوس روپو زکاة وایستل سو، اودبکر پرذمه اوه لس سوه پنځوس (۱۷۵۰) روپی زکوٰة وایستل سو نواوس زید دخپلی برخی دروپو ورکولو څخه انکار کړیدی نوپه دی باره کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: په دی صورة کی چې څومره اندازه دزید دروپو څخه زکوٰة ایستل سویدی هغه دزید په ذمه باندی دی دهغه په حساب کی به یې ولګوی اوکمی روپی چې دبکر په ذمه واجبی دی دبکر په حساب کی به ولګول سی، دزید انکار کول معتبرنه دی، په درمختار کی دی، وان تعدد النصاب تجب اجماعًا ویتراجعان بالحصص الخ (درمختار) قوله ان تعدد النصاب ای بحیث یبلغ قبل الضم مال کل واحد بانفراده نصابا فانه یجب حینئذ علی کل منهما زکوٰة نصابه ([2]). الخ شامی ج۲ ص ۳۵. فقط

پرلاندی استعداد لرلو والا باندی زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (۲۳) زید قرضداره دی، په هر کال کی ګټه وټه یې دده دپاره نه بس کیږی اکثره جائیداد یې خرڅ کی او لګوی یې، دډیرو بچیانو خاوند دی، په تعلیم یې ډیره خرچه کیږی، دزید سره دکور دسامان څخه علاوه یوڅه اندازه دسرو زرو اودنقری لوښی اوصندوق اوتوتی اونور څه دی نوپه زید باندی زکوٰة، سرسایه اوقربانی دمحرم فاتحه، حج دبرات دشپی فاتحه اودنورو عزیزانو اوغریبانو کومك په ده واجب دی اوکه نه؟

([1]). ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۸. ظفیر

([2]). وګوری ردالمحتار للشامی کتاب الزکوة باب زکوٰة المال ج۲ ص ۴۷، ط. س ج۲ ص ۳۰۴) (ردالمحتار مجتبایی دهلی ج۲ ص۲۲۰). ظفیر

جواب: ګینه اونغدی روپی که چیری دومره اندازه وی چی دقرض اداء کولو څخه وروسته دنصاب په اندازه پاته سی نوپه دی پاته روپو باندی زکوٰة واجب دی، ([1]) او سرسایه اوقربانی کولورباندی واجب دی، اودحج کولو په اندازه چی کم څه پاته سوی وی نوحج کولورباندی هم فرض دی، پاته سوه دمحرم فاتحی اودبرات دشپی اونوری خبری سوی داپه هیڅا واجب نه دی بلکی جائزهم نه دی، اودغریبانانو اودخپلو خپلوانو امداد اومرسته هغه وخت واجب ده کله چی دده دخپل اهل اوعیال دمصارفو څخه زیات سی. فقط

قرض چی مجری کړی دباقی مال زکوٰة به ورکوی: **سوال**: (۲۴) دهندی سره دسپینو زرو دوه نیم سوه روپی اودسرو زرو دری اویا روپی دکال ترختمیدو پوری جمعه سویدی چی په بازار کی یې قیمت یوزر اوه سوه اتیا (۱۷۸۰) روپی لاس ته ورځی چی دهغه ددرکه اته سوه روپی ورسره باقی پاته دی او ۳۵۷ یې قرض دی، ذکر سوی هندی په شراکت باندی دزید سره مځکه واخیسته دکمی یې چی دولس دیارلس سوه روپی بائع ته ورکړی خوبائع دروپوڅخه منکرسویدی دکم ددرکه څخه چی ورسره جنجال کیږی، دپیسو وصول مذبذب او نامعلوم دی، هندی زید ته وویل چی که چیری روپی وصول نه سوی نوزه به یې داداء کولو ذمه واره یم، اوس ټولی روپی دهندی په ذمه باندی دی اوپه زکوٰة کی مجراء کیږی اوکه نیمایی یې؟

جواب: په دی صورة کی چی قرض دهندی په ذمه باندی دی هغه دی مجراء کړی اودباقی پاته روپو زکوٰة دهنده پرذمه باندی واجب دی اودمتنازع قرض نیمایی قرض چی دهندی په ذمه باندی دی په دغه وخت کی مجرٰی کیدی سی ([2]). فقط

زوی چی مال دپلار په واک کی ورکی نو دهغه زکوٰة به پرچا باندی وی؟ **سوال**: (۲۵) زید په خپل لاس ګټلی مال دمور اودپلار سره کنبی ښووی اوپلار ته یې پوره اختیار ورکی، نو زکاة به په چا باندی واجب وی، اوبل مال دی چی پلار اوزوی دواړو ګټلی دی اودپلار په قبضه کی دی اوهغه یې متصرف دی، زکوٰة په چاباندی واجب دی؟

([1]). فلازکوٰة علی مکاتب الخ ومدیون للعبد بقدر دینه فیزکی الزائد ان بلغ نصابا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص۹ ، ط. س. ج۲ ص۲۲۴). ظفیر

([2]). ومنها الفراغ عن الدین قال اصحابنا کل دین له مطالب من جهة العباد یمنع وجوب الزکوٰة سواء کان الدین للعباد کالقرض وثمن المبیع الخ وسواء کان الدین من النقود (عالمګیری مصری کتاب الزکوٰة ج۱ ص ۱۲۲ ، ماجدیه ج۱ ص ۱۷۲) ومدیون العبد بقدر دینه فیزکی الزائدان بلغ نصابا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۳). ظفیر

جواب: څوك چې دمال مالك دی زكوٰة په هغه باندی واجب دی يعنی په زوی باندی ([1]) او په دوهم صورة كی څه ركم چې عام اوتام تصرفات اوانتظامات په پلار پوری متعلق دی اوپوره تصرف ورته حاصل دی نوبيا دزكاة اداء كول هم دهمده په ذمه باندی دی. فقط

په دولسمه مياشت كی چې په كمو روپو باندی ځايونه واخيستل سی نوآيا بياهم زكوٰة باندی سته؟ **سوال**: (٢٦) ديوه سړی زر روپی دی چې دضروری حاجتونو څخه اضافه دی په كمو چې يوولس مياشتی تيری سوی دی نوده دزكاة څخه دبچ كيدلو په خاطر په دی روپو ځايونه اويا مالونه واخيستل، نوپه ده باندی ددی روپو زكوٰة سته اوكه نه؟

جواب: ترڅو پوری چې پوره كال باندی تيرسوی نه وی اوباندی سامان اويا ځای واخلی نوپه هغه كی زكوٰة نسته نو ددی روپو څخه زكاة ساقطيږی ([2]). فقط

څوک چې سل روپی دوه ورونه او دوې خوندی لری نوپه ده باندی زكوٰة واجبيږی اوكه نه؟

سوال: (٢٧) ديو سړی سره دحاجت اصلی څخه زياتی سل روپی دی او دده دوه ورونه او خوندی دی مگر ده ددی روپو په باره كی هيڅ څه ويلی هم نه دی او انكار يې هم نه دی كړی نوپه دی سړی باندی ددی روپو زكوٰة سته اوكه نه؟

جواب: كه چيری داسل روپی يواځی دده ملكيت وی نو زكاة هم په ده واجب دی اوكه چيری دادپلار څخه په ميراث كی پاته وی اودواړه ورونه اودواړی خوندی پكښې شريك وی اوپه هغه كی ديوه حصه هم دنصاب اندازی ته نه رسيده لهذا په هيچا زكوٰة واجب نه دی اوپه دی كی ددواړو ورونو اوددواړو خوندو دريمه دريمه حصه ده يوثلث ديو ورور اوبل ثلث دبل ورور اوبل ثلث ددواړو خوندو په شريكه دی ([3]) هغوی ته په نه وركولو دهغوی حق نه ساقطيږی. فقط

څومره زكوٰة چې واجب وی دهغه څخه زيات وركول څنگه دی؟ **سوال**: (٢٨) دزكاة دحساب څخه چې دری څلور روپی وی دهغه پرځای چې يوه يادوی روپی زياتی وركړی نوآيا دده زكوٰة بی فائدی كيږی؟

جواب: په دې صورة كی ثواب زيات كيږی اوزكاة هم اداء كيږی اوديوی زياتی روپی په وركولو سره ثواب زيات وركول كيږی. فقط

ديوه سړی سره دولس روپی دی يوولس سوه ١١٠٠ روپی قرضداره دی نو دڅومره روپو زكوٰة

([1]). الزكوٰة واجبة على حر مسلم عاقل بالغ اذاملك نصابا ملكا تاما (هدايه كتاب الزكوٰة ج١ ص ١٦٥). ظفير

([2]). ولابد من الحول لانه لابد من مدة يتحقق فيها النماء وقدر الشرع بالحول لقوله ﷺ لا زكوٰة فى مال حتى يحول عليه الحول (هدايه كتاب الزكوٰة ج١ ص ١٦٨) . ظفير

([3]). ليس فيمادون مائتى درهم صدقة الخ (هدايه باب زكوٰة المال ج١ ص ١٧٢). ظفير

به ورکوي؟ سوال: (٦٩) دزيد سره ټول کال دولس روپۍ وی لیکن یوولس سوه روپۍ قرضداره دی که چیری بکر چی دده پلار دی دده دطرف څخه زکوٰة ورکی نودسلو روپو زکوٰة به ورکوی اوکه نه دیوولسو روپو؟

جواب: په دی صورة کی یوازی دسلو روپو زکوٰة واجبیږی اویوولس سوه روپۍ په قرض باندی ورڅخه مستثنٰی کیږی ([1]). فقط

وکيل په زکوٰة کی تصرف نسی کولی: **سوال**: (٧٠) وکیل چی دزکاة مال لاس ته راوړی دهغه پرځای خپلی روپۍ په زکوٰة کی ورکړی نوزکاة یې اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: دوکیل داتصرف جائزنه دی، کمی روپۍ دزکاة چی دده سره دی دهغه څخه دی فقیرانو ته زکوٰة ورکی ([2]). فقط

آيا دزکاة دپاره کمه میاشت متعین ده؟ سوال: (٧١) دزکاة دورکولو دپاره کمه میاشت ټاکل سویده؟

جواب: دزکاة داداء کولو دپاره هیڅ یوه میاشت او ورځ مقرر نه ده، البته دبعضو ورځو اومیاشتو دفضیلت دپاره په دی کی دخل ضرور سته یعنی کمه میاشت چی فی نفسه متبرکه وی لکه درمضان میاشت سوه نو په دی کی دزکاة او دنورو ورکول هم ښه دی او افضل دی، هو! ضرورت ددی خبری دی چی په کمه میاشت کی چی دزکاة اداء کول واجب وی، په هغه کی دی اداء کړی اوبیا دی همدا میاشت مقرره کړی په شرعة الاسلام کی دی، یعین صاحب المال لزکاته شهراً لا یجاوزه لما فیه من التاخیر ومن اخر الزکاة بعد وجوبها علیه من غیر عذر یاثم الخ ([3]).

دمالک دمال څخه چی فائده اخیستونکی زکوٰة اداء کړي نوددي څه حکم دی؟ سوال: (٧٢) يوسړی چی دنصاب مالك وی، اوکم چی دده په ملکیت کی دی دهغه څخه نور څوك فائده اخلی نوآیا که چیری دنصاب دمالك زکات نور خلګ چی دده له مال څخه فائده اخلی ټول په ټوله ورکړی نوپه دی صورة کی دنصاب دمالك له طرفه زکاة اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی زکوٰة دنصاب دمالك په ذمه باندی واجب دی اوکه چیری دده په امراوپه اجازی هغه کسان زکات اداءکړی چی فائده باندی اخلی نودنصاب دمالك دطرف

([1]). ومن کان علیه دین یحیط بماله فلازکوٰة علیه الخ وان کان اکثرمن دینه زکی الفاضل اذابلغ نصاب بالفراغة عن الحاجة والمراد به دین له مطالب من حرة العباد الخ (هدایه کتاب الزکوٰة ج١ ص١٦٨) . ظفیر

([2]). ولوخلط زکوٰة موکلیه ضمن (ایضا ج٢ ص ۴١) . ظفیر

([3]). شرح شرعة الاسلام فصل فی سنن الزکوٰة والصدقة ص ١۵٨). ظفیر

ځخه اداء سو، وکذا لو امر غیره بالدفع عنه جاز. شامی جلد ۲. (١) فقط

دټول کال دمصرف ځخه وروسته کمه غله چی یې ایښی ده نوپه هغه کی زکوٰة سته اوکه نه؟

سوال: (۷۳) کمه غله چی دپوره کال دمصرف کولو ځخه وروسته باقی ایښی ده په هغه کی زکاة واجب دی اوکه نه؟

جواب: داغله چی دټول کال دخوراك دپاره یې اخیستی وی اودکال دپوره کیدلو ځخه یې باقی ایښی وی نوپه دی کی زکوٰة واجب نه دی. (٢) فقط

آیا دباغ مزکه دزیوراتو په شان دزکاة باعث ده اوقرضدار هم دی نوځه وکړی؟ سوال: (۷۴) دزید دډاکی مځکی آمدنی دکاله لس منه پخه غله ده او دغلی مختلف قسمونه دی او دباغ دمیوی هم سالانه آمدنی شل روپی دی اوداوسیدو کور یې پوخ دی اوهغه سرکاری ملازم دی چی ماهانه یې اویا روپی تنخواه ده او یوروغ قیمتی اس دسلو روپو یې هم په ملکیت کی دی، زید عیال داره دی اودری سوه روپی یې په قرض اخیستی اویوسل پنځوس روپی قرض وربانذی بغیر دسود ځخه دی اودده ځه مځکه په صحراء کی په (۴۲۵) روپو کی گرو ده او ددی دښځی سره دسپینو زرو زیورات دسلو روپو او ددری سوه طلایې زیورات دی، نو دزید پر مال باندی زکوٰة فرض دی اوکه نه؟

جواب: که چیری هغه گینه چی دزید دښځی سره ده دزید په ملکیت کی وی اوزید دهغه ځخه زیات قرضداری وی نودزید په ذمه په دی مسئوله صورة کی زکوٰة ورکول فرض نه دی. (٣) فقط

زراعتی جائداد باندی زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (۷۵) که دچا سره زراعتی مځکه وی او قرض یې هم ورکړی وی لیکن که چیری دجائداد قیمت ترقرض کم دی، نوکه دداسی سړی سره که ځه گینه وی نوپه دی باندی زکات سته اوکه نه؟ دزیوراتو اودنورو شیانو قیمت دقرض ځخه ډیر زیات کم دی.

جواب: په ده باندی زکوٰة لازم نه دی (٤). فقط

دانگریزی روپو دنصاب اندازه ځومره ده؟ سوال:(۷٦) په دی روپو دانگریزی روپوپه نصاب

---

(١). ردالمحتار للشامی کتاب الزکوٰة ج٢ ص١٥ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٩. ظفیر

(٢). ومنها فراغ المال عن حاجة الاصلية فليس فی دور السکنی وثياب البدن واثاث المنزل الخ وكذا طعام اهله (عالمگیری کتاب الزکوٰة ج١ ص ١٢١ ، ماجدیه ج٢ ص ١٧٢). ظفیر

(٣). فلا زكوٰة على مكاتب الخ ومديون للعبد بقدر دينه فيزكى الزائد ان بلغ نصابا (الدر المختار على هامش رد المحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص٨ ، ط. س. ج٢ ص٢٢٣). ظفیر

(٤). ولا فی ثياب البدن الخ ودور السكنى ونحوها (درمختار) قوله ونحوها كثياب البدن غير المحتاج اليها وكالحوانيت والعقارات (ردالمحتار للشامی کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٤ و٢٢٥) . ظفیر

سره صحیح اندازه څه ده؟

جواب: دوه سوه درهمه مقدار یې نصاب دی دانګریزی روپوسره یې تقریبا دوه پنځوس روپۍ اودوه آنې کیږي ([1]).

(داد (١٣٣٥هـ) کال خبره ده اوس سپین زرګران سوی دی اوس ٨ رتی دی. ظفیر)

دسلو ،١٠٠، روپو زکوٰة څومره دي؟ سوال: (٧٧) دسلو روپو څخه څومره زکوٰة ایستل په کار دی مشهوره فیصدی یې ٨ ده نوداصحیح ده؟

جواب: ٨ فیصدی حساب صحیح دی ځکه چې څلویښتمه حصه زکوٰة واجب دی ([2]). فقط

ناوی ته چې یې زیورات ورکړی وی ددی زکاة په چادی؟ سوال: (٧٨) بعضې قومونه نابالغه بچیانوته نکاح کوی، دخاوند پلار ناوی ته څه زیورات ورکړی وی، نوددی دزکاة ذمه په چاده؟

جواب: هغه زیورات چې دخاوند پلار ورکړی وی زمونږ په عرف کې دناوی ملکیت نه دی نوددی کبله ددی زکوٰة دخاوند په پلاردی (اوپه کم عرف کې چې هغه ګینه دناوی په ملکیت کې راځی نودهغه زکوٰة په ناوی باندی دی. ظفیر)

په لاندې ذکرسوی صورتونوکې څومره زکوٰة ورکی؟ سوال: (٧٩) دزید سره دکال په ابتداء کې د ١٢٠٠ روپو مال وو په دی تفصیل سره چې په دری سوه روپو یې ځایونه جوړ کړی اواخیستل سوی دی او ٨٠٠ روپۍ یې دخلګو په ذمه قرض دی اود ٥٠٠ روپو دتجارت سامان موجود دی نوپه دی صورة کې زید ته څومره اندازه روپۍ په زکوٰة کې ورکول په کاردی؟ او څلور سوه روپۍ دروپو ورکوونکی سړی قرض دی؟

جواب: په اباد سوی اواخیستل سوی مکان کې زکوٰة نسته، په پنځو سوو روپو په موجوده مال زکوٰة واجب دی لیکن څلور سوه روپۍ چې دپور ورکوونکی دی هغه به ځنې لیری کړی، سل روپۍ زکوٰة اداء کول دستي واجب دی ([3]) اواته سوه چې دنورو په ذمه قرض دی په هغه کې هم زکوٰة واجب دی مګر دهغه اداء کول دزکاة وروسته دوصول کولو څخه دی وکړی اوکه فی الحال یې ورکوی نودا هم صحیح ده.

([1]). نن سبا ددوو سوو درهمو قیمت (که سپین زر تر دري روپۍ پوري وی) نو یوسل او اوه پنځوس نیم به وی، دومره خبره په ذهن کې ساتل پکار دی چې ددوو سوو درهمو وزن ٥٢ نیمې تولې سپین زر دی، دسپینو زرو دقیمت په ټیټوالی او لوړوالی سره دروپو نصاب بدلیږي. والله اعلم، ظفیر

([2]). لیس فیما دون ماتی درهم صدقة الخ فاذا كانت مائتين وحال عليها الحول فيها خمسة دراهم (هدايه باب زکوٰة المال ج١ ص ١٧٢). ظفیر

([3]). ومن عليه دين يحيط بماله فلازکوٰة عليه الخ وان كثر من دينه زكى الفاضل اذابلغ نصاب (کتاب الزکوٰة ج١ ص ١٢٨). ظفیر

په زکوٰة کی میاشتی ته اعتبار دی اوکه تاریخ ته؟ سوال: (۸۰) دزکوٰة دحساب دپاره کم معلوم تاریخ ته اعتبار دی اوکه میاشتی ته ځکه چی په دی سره لوی فرق راځی شرعًا حکم څه دی تاریخ مقرر کړی اوکه میاشت؟

جواب: دزکاة دحساب دپاره تاریخ ته اعتبار دی په کم تاریخ چی کال پوره سی نوپه هغه تاریخ کی زکوٰة واجب کیږی نوپه دی وخت دی زکوٰة اداء کړی اوددی تاریخ اعتبار دکار وجوب لره دی، په راتلونکی کال په همدی تاریخ زکوٰة واجبیږی په کم تاریخ چی وریسی کال واجبیږی (۱). فقط

دنابالغه په مال کی چی دچا شرکت وی په هغه کی زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (۸۱) مستقیم اوعبدالحلیم دوه ورونه دیوبل سره شریك دی عبدالحلیم وفات سو اونابالغه زوی یې پاته سو دزوی په مال یې مستقیم قابض سو دولی دسر پرست په توګه مستقیم دخپلی حصی زکوٰة ورکی، آیاهغه دعبدالحلیم چی وفات سوی دی دهغه دبرخی هم زکوٰة اداء کی اوکه نه؟

جواب: دعبدالحلیم دوفات کیدلو څخه وروسته دهغه په ترکه دنابالغه په مال کی زکوٰة واجب نه دی، وروسته مستقیم به ددی هلکانو دمال زکوٰة نه ورکوی صرف دخپلی برخی زکوٰة به ورکوی (۲).

دنابالغو کم امامت چی دوالدینو سره وی په هغه کی زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (۸۲) دنابالغو کمه برخه چی دوالدینو سره دامانت په توګه وی په هغه کی زکوٰة سته اوکه نه؟

جواب: په دی کی زکوٰة لازم نه دی، کما فی الدر المختار وشرط افتراضها عقل وبلوغ الخ فلا تجب علی مجنون وصبی الخ. شامی (۳).

کم پیداوار چی دخوړلو دپاره هم پوره نه وی په دی کی زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (۸۳) په بعضو وختونو کی پیداوار دومره اندازه غله هم نه وی چی په هغه دمصرف سوی روپو برابر سی، نوپه دی صورة کی زکوٰة په کمه طریقه سره اداء کیږی؟

جواب: کم څه چی پیدا سوی دی نودهغه لسمه حصه ایستل په کاردی برابره خبره ده که هغه هم لږ وی ، او که زیات مثلاً سل (۱۰۰) منه غله پیداسی نو لس منه به ورکوی اوکه

---

(۱). عن ابن عمر قال رسول الله ﷺ من استفاد مالا فلازکوٰة فیه حتی یحول علیه الحول (رواه الترمذی، مشکوٰة ص ۱۰۷) وسببه ملك نصاب حولی لحولانه علیه (درمختار) ای الحول القمری لا الشمسی (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۵۹). ظفیر

(۲). وشرط افتراضها عقل بلوغ اسلام وحریة (درمختار) قوله بلوغ قال فی البحر وخرج المجنون والصبی فلا زکوٰة فی مالهما کمالا صلاة علیهما للحدیث المعروف (رفع القلم عن ثلاث). (طحطاوی ج۱ ص ۳۸۹). ظفیر

(۳). ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۵۸. ظفیر

لس منه پيدا سی نو يو من به وركوی ([1]).

<u>دكمو روپو چی دوصول كولو اميدنه وی آيا پرهغه زكوٰة وی؟</u> سوال: (٨۴) زيد تجارت وكی اودخلگو په ذمه يې قرض پاته دی بعضو ددی څخه تيښته وكړه اوبعضی بالكل فقيران دی چی ددوی څخه دوصولو اميد نسته اوس زيد ددی روپو زكوٰة اداء كی اوكه نه؟

جواب: دقرض چی كمی روپی دی دهغه زكوٰة دوصولولو څخه وروسته اداء كول واجب دی نو چی كمی روپی نه دی وصول سوی نودهغه زكوٰة اداء كول لازمی نه دی ، ولو كان الدين علی مقر مليء اوعلی معسر اومفلس ای محكوم بافلاسه اوعلی جاحد عليه بينة وعن محمد لا زكوٰة وهو الصحيح لان البينة قد لاتقبل اوعلم به قاض الخ فوصل الی ملكه لزم زكوٰة ما مضٰی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج٢ ص ١٢). ظفير

<u>په كال كی چی كمی روپی كمی او زياتی سی نو ددی زكوٰة به څنګه اداء كيږی؟</u> سوال: (**٨٥**) په كال كی چی دزيد سره په ابتداء كی مثلا زر روپی دی دكال په مينځ كی كمی او زياتی سوی، په اخركی لس زره سوی نو دڅومره روپو زكوٰة واجب دی؟

دكال اخرته اعتبار دی په دی صورة كی دلسو زرو روپو زكاة واجب دی ([2]). فقط

<u>دكور زيورات كه په ټول كور والاوو باندی تقسيم كړی دمجموعه (ټولو) نصاب جوړيږی:</u> سوال: (**٨٦**) دلته دا رواج دی چی نر ښځی اولاد هوښيار نابالغه اوبالغه ټول يوځای اوسيږی او دكور كار كوی دوی ټول خپل دنيوی ضروريات دخپلی مزدوری دآمدنی څخه اداء كوی په دی وخت كی كه كمه ښځه دهغې مور، پلار يابل څوك وركوی نو هغه هم دخپل خپل زوج او اولاد څخه جلا نه اوسيږی، مثلا په دې شكل باندی وخت تيرونكی دری كسان دی خاوند ښځه اوزوی كه چيری دټول كال ضرورتونه ددی كسب اودكار دوصول كولو څخه اداء كړی د (**٥٢**) روپو زيورات يانغدی يانور مال سته نومالك يواځی خاوند كيدی سی اوكه دښځی اودزوی هم برخه ګڼل كيږی اوكه دخاوند اوښځی ترژوند پوری دزوی برخه په شريعت كی نسته؟ بعضی داسی كسان دی چی كه چيری مالك يوازی خاوند ګڼی نو دنصاب مالك كيږی اوكه ښځه اوزوی دبرخی حساب ولګوی نودزكاة اندازی ته نه رسيږی؟

---

[1]. قال ابوحنيفة رحمه الله فی قليل ما اخرجته الارض وكثيره العشر سواء سقی سيحا اوسقته السماء الا القصب والحطب والحشيش (هدايه ج١ ص١٨٣). ظفير

[2]. والمستفاد ولو بهبة وارث وسط الحول يضم الی نصاب من جنسه فيزكيه بحول الاصل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زكوٰة الغنم ج٢ ص ٣١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨٨). ظفير

جواب: هغه ټول مال دخاوند دی غیر دهغه څخه چی ښځی ته دامال دپلار دخوا څخه ورکول سوی وی دهغه مالك ښځه ده اوکله چی دخاوند ملکیت دنصاب اندازی ته ورسیږی نو وروسته دکال تیریدلو څخه پرهغه باندی زکوٰة اداء کول لازم دی. فقط والله اعلم

دتجارت په آلاتو کی زکوٰة: **سوال**: (۸۷) دتجارت آلات لکه کښتی، جهازونه دغوایانو ګاډی اوداوښانو ګاډی (ریړی) دتجارتی اموالو دانتقالولو دپاره، او ددوکاندار کور، او نور مالونه دبیعی لپاره وی داټول آلات دتجارت په سامان کی شامل دی اوکه دکسب آلات دی؟

جواب: دا آلات اوشیان دکسب اوداستعمال په الاتو کی داخل دی په دی کی زکوٰة نسته، وکذالك الات المحترفین الخ (ای لا زکوٰة فیها) ([1]).

کمی روپی چی مسکین ته په دوکه کیدلو سره ورکړی نونیت دزکاة پکښی کیږی اوکه نه؟

سوال: (۸۸) زید (۱۲۰) روپی عمرته ولیږلی اوخط یې ورته ولیکی چی شپیته روپی دخالد دزامنو دی اوسل روپی ستا دی، دزید څخه دحروفو په ویلو کی غلطی وسوه په دی بناء سره یې دا وګڼله چی سل روپی دخالد دزامنو دی اوشپیته روپی زما دی څه رکم چی یې ددی څخه سل روپی دخالد زامنوته ورکړیدی دخالد زوی مالداره نه دی اودعمر زامنو دده څخه شلویښت اخیستل مناسب ونه ګڼل، لهذا دغه روپی په زکوٰة کی مجرٰی کیږی اوکه نه؟

جواب: که هغه روپی دهغه سره موجودی وی نودزکوٰة نیت کولی سی اوکه موجودی نه وی نونه صحیح کیږی په درمختار کی دی، کما لودفع بلا نیة ثم نوی والمال قائم فی ید الفقیر ([2]).

دزکاة نصاب څه شي دی؟ سوال: (۸۹) دزکاة نصاب څۀ دی تفصیلی یې ولیکی؟

جواب: دسپینو زرو نصاب دو پنځوس نیمی تولی دی ځکه چی شریعت په دراهمو کی دننه وزن سبعه معتبر کړیدی، ددی صراحت دفقهی په کتابونو کی دی او وزن سبعه دا دی چی لس درهمه داوو مثقالو سره برابروی په دی حساب سره دوه سوه درهمه یوسلو او شلویښت (۱۴۰) مثقاله کیږی اودمثقال معروف وزن څلور نیمی ماشی دی لکه څه رکم چی ددی تصریح په ډیرو ځایونو کی موجوده ده، اولویو علماء همدا اختیار کړیده نو دوه سوه درهمه د (۲۳۰) ماشو برابر دی ، دا چی په دولسو باندی تقسیم کړی نو **۵۲**

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۱ ، ط. س. ج۲ ص **۲۲۵**. ظفیر
([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۸. ظفیر

نیمی تولی یې خارج قسمت را وزی دا دفقهی نصاب دی (١). فقط

دمکان وغیره دزکاة حکم: **سوال**: (٩٠) دیوسړی ډیر کورونه دی اوپه کرایه یې ورکړی دی نوپه هغه کی زکوٰة سته اوکه نه؟ دغوایانو گاډی اونور دکرایې دی په دی باندی زکات سته اوکه نه؟ ددی عبارت څه مطلب دی، او یواجر داره التی للتجارة بعرض من العروض؟ (٢)

جواب: ددی عبارت مطلب دادی چی کم سامان چی دکور سره یې دتجارت قید لگولی دی داهم معتبر دی یعنی چی کم کور یې دتجارت دپاره جوړ کړی وی یایې اخیستی وی دهغه په کرایه یې چی کم سامان حاصل کړی وی په هغه کی زکوٰة لازم دی اوپخپله ددی کور په قیمت کی هم زکوٰة لازم دی اوکه کورونه یې داوسیدلو دپاره جوړ کړی وی یایې اخیستی وی اوهغه یې په کرایه ورکړی وی نوپه دی صورة کی په قیمت کی زکوٰة لازم دی اوهم دغه حکم دغوایی دریړی هم دی اوعلامه شامی ددی قول څه شرحه نقل کړیده هغه ملاحظه کړی، دجامع په روایت کی یې تصحیح کړی دعلامه په نزد دی ته ترجیح معلومیږی او دجامع په روایت تفصیل همدغه دی چی پورته معلوم سو (٣). فقط

زکاة داخیستلو په قیمت ورکړی اوکه په هغه قیمت چی وروسته دی: **سوال**: (٩١\١) یوسړی څه کتابونه دتاجرانو په نرخ واخیستل اویایې په خپله په چهاپ خانه کی چهاپ کړل او زر روپی یې په هغه باندی قیمت ولگوی مگر په بازار کی دهغه قیمت دوه زره دی نو آیا زکات ددوو زرو په کاردی؟ ددی په باره کی سوالونه دی؟

دبازار څخه څه مراد دی ځایی اوکه نه بل یو؟ **سوال**: (٩٢\٢) په خپل قیمت سره مال دزرو روپو دی مگر په بازار کی ددوو زرو دی ددی بازار څخه څنگه بازار مراد دی؟ آیا خاص مقامی بازار دی اوکه ښاریه اوټاون ؟

په عطروکی زکوٰة سته اوکه نه؟ **سوال**: (٩٣\٣) عطر اوغوړی، تیل که دتجارت په غرض تیار سوی وی په هغه کی زکوٰة سته اوکه نسته، که وی نوپه څه حساب سره؟

---

(١). دتفصیل دپاره وگوری ردالمحتار ج٢ ص١٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٥. ظفیر

(٢). وگوری الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٧. ظفیر

(٣). قوله او يواجر داره التی الخ قال فی البحر لکن ذکر فی البدائع الاختلاف في بدل منافع عين معدة للتجارة. ففي كتاب زكاة الاصل أنه للتجارة بلا نية. وفي الجامع مايدل على التوقف على النية، وصحح مشايخ بلخ رواية الجامع، لان العين وإن كانت للتجارة لكن قد يقصد ببدل منافعها المنفعة، فتؤجر الدابة لينفق عليها والدار للعمارة فلا تصير للتجارة مع التردد إلا بالنية اهـ وقيد بقوله: التي للتجارة إذ لو كانت للسكنى مثلا لا يصير بدلها للتجارة بدون النية، فإذا نوى يصح ويكون من قسم الصريح. (ردالمحتار ج٢ ص١٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٧). ظفير

دعطر او دتيلو دغوړو زكوٰة دې دخپل اصل قيمت وركړي اوكه پر اصل قيمت باندې: **سوال**: (۱۴\ ۹۴) عطر اوغوړي اكثره دوي پي پارسل (V.P Parcel) دليږلو په ذريعه بيرون ملكونو ته روان وي اوډير لږهم خرڅيږي، ددې مال دكال په پوره كولو سره په څه حساب سره زكوٰة وركولى سي آيا دلګښت په حساب سره ياپه هغه حساب سره چې مال بيرون ته روان دى؟ دكال په پوره كيدلو سره وروسته ټول موجوده مال عطر اوغوړي وغيره وزن كړې او داصل قيمت په حساب يې وتلى ددې په حساب زكوٰة وركړي، مثلا يوعطر شپږ آنې دتولې اصل قيمت دى اودهغه اته آنې خرڅ ولګيدي نوزكاة داصل قيمت په حساب (۲) په شپږ آنې توله باندې وركړي اوكه نه داتو آنو تولې په حساب سره؟

جواب: \۱: ددې څخه مراد ددې خاص مقامي بازار مراد دي چې په هغه كې هغه شې وي. فقط والله اعلم.

\۲: كله چې دعطرو اودغوړو قيمت دنصاب په اندازه وي نوپه هغه كې زكوٰة واجب دى.

\۳: زكوٰة به په دې حساب وركوې چې كم قيمت يې په بازار كې دى اوددې څخه هغه بازار مراد دى چې په هغه كې داموجود وي، كما فى الدر المختار ويقوم فى البلد الذى المال فيه ، درمختار على هوامش الشامي ج۲ ص ۳۰ باب زكوٰة الغنم.

\۴: په كم حساب يې چې داصل سره كړې دي ددې حساب په قيمت سره به دعطرو او غوړو قيمت ولګوي، كه په نغدو وركولو كې نقصان معلوميدې نو دسهوليت دا طريقه ده چې په القاسم كې ذكر سويده چې پخپله په عطرو اوغوړو كې څلويښتمه برخه دې وباسي برابره خبره ده چې دخرڅولو هغه قيمت په فقيرانو تقسيموي اوكه عطر اوغوړي په تقسيم سره يې وركوي. فقط والله اعلم، كتبه عزيز الرحمٰن

په قرض زكوٰة سته اوكه نه؟ سوال: (۹۵) يوسړي زر روپۍ قرض وركړې اوهره مياشت درې سوه روپۍ په قسط ځينې اخلي نوزكاة په دې روپو دې كم چې قرض سته اوكه نه؟

جواب: كمه اندازه چې وصول سي نوپه هغه كې دټولو كلونو زكوٰة لازم دى يعنى وروسته دقرض حاصلولو څخه دتير سوو ورځو زكوٰة به هم وركوي. فقط والله تعالى اعلم .

واعلم ان الديون عند الامام ثلاثة قوى، ومتوسط، وضعيف، فتجب زكوٰتها اذا تم نصاب وحال الحول لٰكن لافورًا بل عند قبض اربعين درهمًا من الدين القوى كقرض وبدل مال تجارة الخ (درمختار على الشامي ج۲ ص ۴۸).

دكال تيريدل: **سوال**: (۹٦) حولان حول دوجوب دزكاة دپاره دكم وخت څخه معتبردى؟

جواب: دكال تيريدل دنصاب دپوره كيدلو څخه وروسته معتبردى، لان حولان الحول على

النصاب شرط لكونه سببا، شامي ج٢ ص ۴۱. جميل الرحمٰن

په كوټه روپو كي زكوٰة سته اوكه نه؟ سوال: (۹۷) په كوټه روپو چي په هغه كي سپين زر اوسره زروي زكوٰة واجب دي اوكه نه؟

جواب: په كوټه روپو چي سپين اوسره زر په هغه كي وي په هغه كي زكوٰة واجب دي، واللازم في مضروب كل منهما ومعموله (درمختار) قال الشارح قوله ومعموله اي ما يعمل من نحو حلية سيف او منطقة اولجام اوسرج او الكواكب في المصاحف والاواني وغيرها اذا كانت تخلص بالاذابة. (بحر شامي ج٢ ص ۴۱)، جميل.

دوهم باب

دزكـاة اداء كـــول

دروپو په بدل كي اته آنيز اوڅلور آنيز وركولو سره هم زكوٰة ادا كيدلى سي: سوال: (۹۸) ديو سړي په ذمه پنځه روپي زكوٰة واجب دي ده دزكاة په اداء كولو كي دمثال په توګه لس اته آنيزه ياشل څلور آنيزه وايستل نوكاة اداء سو اوكه نه؟

جواب: په دي صورة كي زكوٰة اداء كيږي (١).

دنوټ په باره كي دزكاة دوجوب اودهغه داداء كولو څه حكم دي؟ سوال: (۹۹) دنوټ په باره كي دزكاة دواجب كيدلو اوداداء كيدلو څه حكم دي ؟

جواب: نوټ كله چي دنصاب په اندازه وي زكوٰة واجب دي اودزكاة روپي بايد ترى اداء كړي اوكه نوټ په زكوٰة كي وركړي نوكم وخت چي هغه سړي هغه په روپو سره بدل كړي ددغه وخت زكوٰة باندى ادا كيدلى سي (٢). فقط

چي دزكاة رقم غلاسو نو ايا دوباره زكوٰة وباسي؟ سوال: (۱۰۰) يوسړي دزكاة مال وايستى اودزكاة مال يې په يوځاى كي كښې ښوو ى دهغه ځاى څخه غل غلا كي نوزكاة اداء سو اوكه نه؟

جواب: په دي صورة كي زكوٰة نه دي اداء سوى بيا زكاة وركول ښه دي. (٣)

---

(١). څنګه چي دروپو څخه زكوٰة اداء كيږي داسي په اته انو اوپه څلور انيزو باندى هم زكوٰة اداء كيږي ځكه چي داهم رائج الوقت روپي دي. والله اعلم ظفير

(٢). زموږ په دي دوركي كال ۱۹۲۲ كي نوټ قانونا حواله او وثيقه ده مګر عملاً اوپه رواج كي دسكې اوثمن خلقي په حكم كي دي، ددي وجه چي روپي دځوكالو څخه دليدلو په صورة كي دليدلو دپاره هم نه دي راغلى ټول كاروبار اومعاملات په دي لوټونو سرته رسيږي لهذا دخاكسار ذاتي رايه داده چي په لوټونو زكاة اداء كيږي كه دلسو روپو په لوټ باندى څوك لس روپي تلاش كوي نوپه دي وخت كي نه ورته پيدا كيږي. والله اعلم ظفير

(٣). ولا يخرج عن العهدة بل بالاداء للفقراء (درمختار) فلوضاعت لاتسقط عنه الزكوٰة ولومات كانت ميراثا =

کم قرض چې لږ لږ لاس ته راځي دهغه زکوٰة په څه طريقه ورکړي؟ سوال: (١٠١) هغه قرض چې وخت په وخت لږ لږ لاس ته راځي دهغه زکوٰة په کمه طريقه سره ورکړي؟ اوکه ددوو سوو څخه پنځوس وصول سوي وي ددوو کالو څخه وروسته او (٢۵) دري کاله وروسته نودپنځوسو دا ددوو کالو څخه اود (٢۵) دا ددري کلو څخه ، په دي قياس سره يې په دي طريقه اداء کړي ياپه کمه طريقه؟ اوکه قرضداري دروپو په بدله کي غله وغيره ورکړي اوهغه شيان په کور کي مصرف کړي نو دهغه په قيمت کي زکوٰة په دي طريقه ددوو يا ددري کالو هم ورکي اوکه په څه طريقه؟ اوکه په قرض کي مزکه ورکړي نودزکاة څه حکم دی؟

په زکوٰة کي کور يا ټوټه يا نور شيان ورکول څنګه دي؟ سوال: (١٠٢) په زکوٰة کي دروپو په ځای غله ياجامي دخپل کور څخه ورکړي نوزکاة اداء سو اوکه نه؟

جواب: \١\: کم وخت چې څه اندازه قرض حاصل سی تردي وخته پوري سره دوروسته کلونو زکوٰة اداء کول په کاردي، اوکه دقرض په بدله غله وصول سي نودتيرو سوو کلونو داصل قرض څخه دکم په بدل کي چې غله راغلي ده زکوٰة دي ورکړي ([1])، اوپه ائنده کي دخوړلو په غله کي زکوٰة نسته.

که چيري مزکه په قرض کي راغله اوقرض هم وصول سو نو دتيرو سوو کلونو زکوٰة لازميږي ([2]).

\٢\: په دواړو صورتونو کي زکوٰة اداء کيږي، که دکور څخه غله اوجامه وغيره حساب کړي وي او ورېي کړي اوکه دبازار څخه يې اخيستي وي او ور يې کړي ([3]).

دمدرسي مهتمم ته په زکوٰة ورکولو سره زکوٰة اداء کيږي اوکه نه اداء کيږي؟ سوال: (١٠٣) دديوبند مدرسې ته يا بل يو اسلامي انجمن ته چې کله دزکاة روپي وروليږي اوپه هغه باندي دکم مستحق مسکين قبضه رانسي بلکي دمهتمينو په قبضه کي راسي اومهتمم هم مسکين نه وي، نوپه دي صورة کي زکوٰة اداء سو اوکه نه؟

= عنه (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١۵ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧٠). ظفير

[1]. اعلم الديون عند الامام ثلاثة قوی متوسط وضعيف، فتجب زکاتها اذا اتم نصابًا وحال الحول لکن لا فورًا بل عند قبض اربعين درهما من الدين القوی کقرض ومال تجارة فکلما قبض اربعين درهمًا يلزمه درهم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص ۴٧ – ۴٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٠۵) . ظفير

[2]. لوکان الدين علی مقر الخ فوصل الی ملکه لزمه زکوٰة مامضٰی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٢). ظفير

[3]. وجاز دفع القيمة فی زکوٰة وعشر وخراج وفطرة ونذر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج٢ ص ٢٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨۵). ظفير

جواب: مدرسوته چی کم رقم دزکاة راځی ددی دپاره دمدرسی مهتمم په داسی صورة سره اخیستل په کاردی چی دزکاة ورکوونکی ته څه شبهه پیدا نسی هغه داچی دغه رقم دزکاة دی اول یومسکین ته چی دزکاة مصرف وی ورکړی او دهغه په ملکیت کی دی را ولی بیا دی دهغه شخص دمدرسی دمصارفو دپاره دمدرسی مهتمم ته ورکړی ځکه چی په زکوٰة کی تملیك ضروری دی (١)، ددی دپاره دی اول مذکوره طریقه وکړی چی څه شبهه پاته نسی اوعلاوه پردی باندی په طالبانو اوعمده مسکینانو چی ددی مصرف وی دهغوی په خوراك اولباس یې دزکاة روپی مصرف کول بی دشبهی څخه صحیح دی، اوپه مدرسو کی دزکاة روپی دطالبانو اودمسکینانو په مصارفو کی مصرف کیدلی سی، په هرحال سره اوس څه شك نه راځی بی دتکلفه څخه دزکاة روپی دطلباء وو په کمك کی ولګوی په دی کی دوه چنده ثواب دی. فقط

<u>**په حرامه ګټه کی زکوٰة سته اوکه نه؟**</u> **سوال**: (١٠۴) زید یاهندی په څه ناروا ګټی سره څه مال حاصل کی اوس هغه ددی کسب څخه توبه وکاړله اوهغه دخپل مال څخه زکاة، صدقات اوخیراتونه ایستلی دی. اودحلالی ګټی څخه یې هیڅ پیسه نسته نو آیا دده دا خیرات اوصدقات وغیره جائز دی؟

جواب: په مال حرام کی دزکاة دواجبیدلو اونه واجب کیدلو کی داتفصیل دی چی که چیری دده سره نور حلال مال هم وی اودهغه سره یې حرام مال یوځای کړی وی نودامام صاحب رحمه الله په نزد په ده باندی زکوٰة لازم نه دی بلکی هغه ټول مال خیرات کول واجب دی یعنی کله چی خپله مالکانو ته یا دهغه وارثانو ته مال واپس کول متعذروی. په درمختار کی دی. جواب: ولو خلط السلطان المال المغصوب بماله ملكه فتجب الزكاة فيه ويورث عنه الخ وهذا إذا كان له مال غير ما استهلكه بالخلط منفصل عنه يوفى دينه، وإلا فلا زكاة، كما لو كان الكل خبيثا الخ. اوپه شامی کی دقنیه څخه نقل کړی دی چی: لوكان الخبيث نصابا لا يلزمه الزكوة لان الكل واجب التصدق عليه فلا يفيد ايجاب التصدق ببعضه الخ (٢)، اودمسجد جوړول دحرام مال څخه درست نه دی، اوپه مدرسه کی په طالبانو صدقه کول په هغه صورةکی چی مالکانو اویاوارثانودهغه مسجدته نه رسیږی درست اوصحیح دی.

---

(١). ويشترط ان يكون الصرف تمليكا لا اباحة (درمختار باب المصرف) وحيلة التكفين بها التصدق على فقير ثم هو يكفن فيكفن الثواب لهما وكذا فى تعمير المسجد (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٢، ط. س. ج٢ ص ٣۴۴). ظفير

(٢). وګورئ ردالمحتار ج٢ ص ٣٣ – ٣۴، ط. س. ج٢ ص ٢٩١. ظفير

دکاغذي نوټ څخه زکوٰة اداء کيدلی سی اوکه نه؟ سوال: (١٠٥) لوټ څنګه چی مال نه دی په دی اساس يوه شبهه پيدا کيږی چی دچاسره يوازی لوټ وی نو په ده باندی زکوٰة واجبول نه دی په کار اوکه چيری لوټ په زکوٰة کی ورکړی نوزکاة به ادانه سی اوکه دزکوٰة روپی دحوالی په ذريعه وليږل سی اوپه دی باندی مرسل اليه ته لوټ ورکړی نو دزکاة اداء کول په کارنه دی؟

جواب: زکوٰة په دی وجه واجب دی چی ددی نوټونو رقمونه اوروپی په سرکاری خزانه کی امانت موجودی وی څه رکم چی دچا روپی په خزانه کی وی نو دزکاة اداء واجب ده ([1])، اوکه نوټ په زکوٰة کی ورکړی کله چی هغه روپی کړی اوپه روپو قبضه وکړی يعنی حاصل ئی کړی نوزکات اداء کيږی، په همدی ډول سره کله چی دحوالي په ذريعه ليږلی وی اومرسل اليه ته نوټ وصول سوی وی نوکله چی مرسل اليه ته دانوټ حاصل سی نو زکات اداء کولی سی نوهغه وخت نوټ دروپو وثيقه ده ([2]) .

(په اوس وخت کی نوټ دروپو په ځای قبلولی سی ددی وجه څخه اوس دروپو رواج نه دی پاتی نو دبدلولو شرط په دی دورکی لګول بی سوده دی اوپه عام عرف کی دملك په داخل کی نوټ په روپو سره قبلول کيږی. ظفير)

چی دزکات روپی ئی جدا کړی وی اوڅه ئی تقسيم کړی اوڅه نوری غلا سوی نوڅه حکم دی ؟ سوال: (١٠٦) يوکس زکات وايستی اونيت ئی کړی ؤ اوتقسيم ئی شروع کړی، څه روپی ئی تقسيم کړی اوڅه غلا سوی اوس ددی زکات اداء کيدلی سی اوکه نه سی اداء کيدلی ؟

جواب: څومره اندازه روپی چی غلا سوی وی په دی اندازه روپی بيا ورکول په کار دی ([3]) . فقط

دغصب او درشوت په مال باندي زکات سته اوکه نه ؟ سوال: (١٠٧) په غصب (په زوره اخيستل سوی مال) اودرشوت په مال باندی زکات سته اوکه نه ؟

جواب: هغه ټول مال خيرات کول ښه دی کله چی دمالکانو اودهغه دوارثانو څه معلومات نه وی ([4]) ، (په دي کی زکات نسته . ظفير)

([1]). وکذا الو ديعة عند غير مصارفه (درمختار) فلوعند مصارفه تجب الزکوٰة (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧٢). ظفير

([2]). ويشترط ان يکون الصرف تمليکا لا اباحة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ١٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٤). ظفير

([3]). ومقارنته بعزل ما وجب کله اوبعضه ولا يخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء (الدرالمختار) فلوضاعت لا تسقط عنه الزکوٰة (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص١٥ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٩). ظفير الصديقی [باقی]

داحادیثو په کتابونو باندې زکات سته اوکه نه ؟ سوال: (١٠٨) داحادیثو په کتابونو کې چې دزر، پنځه سوه روپو وې زکات پر واجب دی اوکه نه ؟
جواب: که کتابونه دتجارت دپاره نه وی بلکې دلوستلو اولیدلو او دمطالعې دپاره وی نو بیاپه دی کې نسته (١) فقط .
دزکاۃ روپی که درجسټر په ذریعه سره ولیږل سی مګر ونه رسیږی نوځه وکړی؟ سوال: (١٠٨) دلسو روپو نوټ دزکاۃ دمال څخه دمظلومانو دامداد لپاره په رجسټری صیغی سره ولیږل سو کله چی ترڅه مودې پوری رسید رانغی نومکتوب الیه دیادګار په توګه ولیکلی، دهغه ځای څخه جواب راغی چی ماته یادنه دی چی درجسټر په ذریعه ستاسی کم نوټ راغلی وی مکتوب الیه ډیر لوی اومعتبر سړی وی په دی حالت کی زکوٰۃ اداء کیدلی سی اوکه نه دوباره به لس روپی جمع کیږی ؟
جواب: په دی صورۃ کی هغه زکوٰۃ یعنی لس روپی بیا ورکول په کاردی (٢). فقط
کونډی ته په دې نیت قرض ورکول چې زکوٰۃ به لیرې سې څنګه دی؟ سوال: (١٠٩) یوه کونډه ښځه دزکاۃ مستحقه ده که چیری کم سړی دی ښځی ته قرض په دی نیت سره اداء کړی چی ائنده کی به زکوٰۃ ددی روپو لیری سی داجائز دی اوکه نه؟
جواب: په دی طریقی دقرض اداء کولو سره زکوٰۃ نه اداء کیږی بلکی دقرض داداء کولو داصورۃ کیدلی سی چی کمه اندازه روپی ورکوی هغه روپی دی، دې کونډی ته ورکړی او دهغې ملکیت دی وګرځوی بیا دی دهغې څخه واخلی دهغه په قرض کی دی ورکړی په دی طریقه زکوٰۃ هم اداء سو اوقرض هم اداء کیږی (٣).
په مدرسه کې دروپو په جمع کولو سره زکوٰۃ اداء کیدی سی اوکه نسی؟ سوال: (١١٠) په اوقافو بلکی په خاصو اسلامی مدرسو کی بغیر دطالبانو اونورو دقبض کولو څخه دچا

---

(٤). والا فلا زکوٰۃ کما لوکان الکل خبیثا کمافی النهر (درمختار) فی القینیة لوکان الخبیث نصابا لایلزمه الزکاۃ لان الکل واجب التصدق علیه فلا یفید ایجاب التصدق ببعضه آه ومثله فی البزازیة (ردالمحتار باب زکاۃ الغنم ج٢ ص ٣۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩١). ظفیر
(١). فلا زکوٰۃ علی مکاتب الخ ولا فی ثیاب البدن الخ وکذا الکتب وان لم تکن لاهلها اذا لم تنو للتجارۃ غیر ان الاهل له اخذ الزکوٰۃ وان ساوت نصابا الا ان تکون غیر فقه وحدیث وتفسیر الخ وفی الاشباه الفقیه لایکون غنیا بکتبه المحتاج الیها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج٢ ص ١٠ – ١١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٣). ظفیر
(٢). والا یخرج عن العهدۃ بالعزل بل بالاداء للفقراء (درمختار) فلوضاعت لاتسقط عن الزکوٰۃ (ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج٢ ص ١۵ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧٠). ظفیر
(٣). وحیلة الجواز ان یعطی مدیونه الفقیر زکوٰۃ ثم یاخذ ما عن دینه (درمختار) قوله حیلة الجواز ای فیما اذا کان له دین علی معسر الخ (ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفیر

په پیژندنی سره په خزانه کی یا دخزانچی په سپارلو سره زکوٰة اداء کیدلی سی اوکه نه؟
جواب: زکوٰة هغه وخت اداء کیږی چی کم وخت طالبانو ته هغه رقم په څه شکل سره ورسیږی مثلا جامی یاخوراك نغدی دهغه په ملکیت کی راسی اوپه مدرسو کی اکثره داسی کیدلی سی چی دمدرسی مهتمم اودهغه کار کوونکی اول همدغه رقم په ملکیت کی راولی اوپه خزانه کی یې کښیږدی چی بیایې دضرورت موافق په مصرف کی راولی (١). فقط

بغیر دغوښتنی څخه په زکوٰة ورکولو سره زکوٰة اداء کیږی اوکه نه؟ سوال: (١١١) کم سړی چی دزکاة روپی کم مستحق ته بغیر دهغه دغوښتلو اودویلو څخه ورکړی نوزکاة اداء کیږی اوکه نه؟
جواب: په دی صورة کی زکوٰة اداء کیدلی سی ځکه چی کم زکوٰة چی یې ورکی دهغه ښکاره ورکول ضروری نه دی البته هغه ځای اومصرف دزکاة کید پکاردی (٢).

هغه قرض چی دوصول کیدو امید یې نه وی او دفعةً وصول سی نوڅه وکړی؟ سوال: (١١٢) که چیری دقرض دوصول کیدو امیدنه وی اوبیا مثلاً لس کاله وروسته دسړی لاس ته ورسیږی نودتیرو کلونو زکوٰة هم واجب دی اوکه نه؟
جواب: په کم وخت کی چی قرض وصول سی نوپه هغه وخت کی دتیرو کلونو زکوٰة هم واجب دی اوکمی روپی چی ورته نه دی ورکول سوی دهغه زکوٰة په هغه وخت کی واجب نه دی اوکه چیری لاس ته ورلره ورغی نوبیا دتیرو کلونو زکوٰة یې هم واجب دی (٣). فقط

دماشین په قیمت باندی زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (١١٣) زید په سل روپی باندی یو ماشین اخیستی دی، نوپه دی باندی زکوٰة ورکول په کاردی اوکه نه؟
جواب: په دی باندی زکوٰة ورکول واجب نه دی، فلیس فی دور السکنٰی وثیاب البدن واثاث المنزل ودواب الرکوب وعبیدة الخدمة وسلاح الاستعمال زکوٰة وکذا طعام اهله وما یحتمل به من الاوانی اذا لم یکن من الذهب والفضة الخ وکذا آلات المحترفین (عالمگیری کتاب الزکوٰة مصری بولاق ج١ ص ١٧٣). ظفیر

---

(١). ولا یخرج عن العهد بالعزل بالاداء للفقراء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٥ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧٠). ظفیر
(٢). وشرط صحة ادائها نیة مقارنة له للاداء (الدرالمختار) والمراد مقارنتها للدفع الی الفقیر (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٨). ظفیر
(٣). ولوکان الدین علی مقر ملئ اومفلس الخ فوصل الی ملکه لزم زکوٰة مامضٰی (ایضا کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٢). ظفیر

دکرایه په نیت چي یوځای واخیستل سی په هغه کی زکوٰة: **سوال:** (۱۱۴) زید یوځای واخیستی نه دتجارت دپاره اونه داوسیدو دپاره بلکی دکرایه ورکولو په نیت یې واخیستی لکه څنګه چي یې هغه ځای په کرایه ورکی، ددی ځای آمدنی دکاله شپږ سوه روپی دی، آیا زکاة دهغه آمدنی په روپو باندی به وی اوکه نه په مځکو کی اوکه داوسیدو په ځای کی؟

جواب: دځای اخیستل په نیت دکرایه ورکولو باندی یعنی چي داځای اخلم دکرایی ورکولو دپاره داهم دتجارت دپاره اخیستل دی، نوزکاة ددی په قیمت باندی واجب دی په درمختار کی دی، والاصل ان ماعدا الحجرين والسوائم انما يزكى بنية التجارة بشرط عدم المانع المؤدى الى المثنٰى وهوكسب المال بعقد شراء اوتجارة قوله ماعدا الحجرين الخ وماعدا ماذكر الجواهر والعقارات والمواشى العلوفة والعبيد والثياب والامتعة ونحو ذالك من العروض (١) (شامی) قوله ماله ببيعه: اى يوجره الخ شامی (٢) ددی څخه معلومه سوه چي په اجاره باندی دورکولو لپاره دیوشی اخیستل دتجارت لپاره اخیستل دی. فقط (دخاکسار بنده په نزد داصحیح نه ده تفصیل په حاشیه کی وګوره. ظفیر)

زوی چي دپلار دطرف څخه زکوٰة اداء کړی ددی څه حکم دی؟ **سوال:** (۱۱۵) پرکم سړی چي زکوٰة فرض وی او دهغه دپاره دزکاة اداء کول اسانه نه وی اودده یوزوی بالغ دی او دپلار ذمه واری په غاړه واخلی اوزکاة اداء کړی دپلار دطرف څخه زکوٰة اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی دپلار دزکاة داداء کیدو صورة دادی چي زوی دپلار څخه اجازه وغواړی چي زه ستا دخوا څخه زکوٰة اداء کم، یا داچي دروپو دنه پیدا کیدو څخه وروسته یامخکی ورته خبر ورکړی اواجازه ورڅخه وغواړی او دروپو دنه پیدا کیدو څخه مخکی داجازی په غوښتلو کی دا احتمال وو، چي کیدی سی اجازه به ورنه کړی، دروپو دپیدا کیدلو څخه وروسته به خبر ورکړی او اجازه به ځینی وغواړی چي زه ستا

---

(١). ردالمحتار کتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٨ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧٣. ظفير

(٢). ردالمحتار کتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧٢. په کرایه باندی دورکولو په نیت چي کم کور واخیستل سی نودهغه په قیمت باندی اصولا زکوٰة نسته: ولو اشترى قدورا من صفر يمسكها ويواجرها لاتجب فيها الزكوٰة كما لا تجب فى بيوت الغلة الخ كذا فى فتاوٰى قاضى خان وكذالك العطار لو اشترى القوارير ولو اشترى جوالق ليواجرها الناس فلا زكوٰة فيها لانه اشتراها للغلة لا للمبايعة كذافى محيط السرخسى (عالمگیری مصری فصل ثانی فی العروض ج١ ص ٢٧٨ ، ماجدیه ج١ ص ١٨٠) معلومه سوه چي دامدنی دپاره اخیستل په تجارة کی شامل نه دی بلکی دخرڅولو دپاره اخیستل تجارت دی. والله اعلم، ظفير

دطرف څخه زکوٰة ورکوم ددی څخه وروسته به محتاجانو ته دپلار دطرفه دزکاة په نیت هغه روپی ورکړی ([1]). فقط

دزکاة ورکولو والا چی فقیرته ووایی دالله ﷻ په خاطر ته به دا روپی زما بچی ته ورکوی، زکوٰة اداء کیږی اوکه نه؟ سوال: (١١٦) که چیری عوام داحیله وکړی چی یو دزکاة مستحق ته زکوٰة ورکړی اوورته ووایی چی دالله په خاطر ته به دازما زوی ته ورکوی نو دده دپاره ددی حیلی اجازه سته اوکه نه؟ اوزکاة یې اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: داحیله جائز ده اوزکاة یې اداء کیږی، کذا فی الدر المختار ([2]).

زکوٰة چی وباسی اوجدا یې کړی او بیایې په تدریج سره ولګوی نوددی څه حکم دی؟ سوال: (١١٧) که چیری زکوٰة وایستل سی اوجلا وساتل سی دامانت په توګه اوپه تدریجی توګه مستحقو خلګو ته په قراره، قراره ورکول سی نودا جائز دی اوکه نه؟

که چیری دزکات څخه زیات ولګول سی نودآینده زکوٰة څخه حسابیږی اوکه نه؟ سوال: (١١٨) که چیری دزکات دروپو څخه زیاتی روپی ولګول سی نودغه زیاتی لګول سوی روپی دآئنده کال په زکوٰة کی حسابیدی سی اوکه نه؟

جواب: \١: داجائز دی کذا فی الدر المختار ([3])

\٢: که چیری زیاتی روپی دزکاة په نیت ورکړی نوهغه دائنده کال په زکوٰة کی حسابیږی، کما فی الدر المختار ولوعجل ذونصاب زکوٰة سنین اولنصب صح ([4]). الخ. فقط

دقرض دروپو زکوٰة چی ورکوی آیا زکوٰة یې اداء کیږی؟ سوال: (١١٩) زید بکرته پنځه سوه روپی قرض ورکړی اودهغه یې هرکال زکوٰة ورکوی، آیا دا زکاة یې اداء کیږی اوکه نه دقرض دلاس ته کولو په وخت دټولی مودی زکوٰة ورکول باندی لازم دی؟

جواب: زکوٰة یې اداء کیږی ([5]). فقط

([1]). وشرط صحة اداءها نية مقارنة له اى للاداء ولو كانت المقارنة حكما كما لو دفع بلانية ثم نوى الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكاة ج٢ ص١٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٨). ظفير

([2]). وحيلة التكفين التصدق بها على فقير ثم هو يكفن الثواب لهما وكذا فى تعمير المسجد (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفير

([3]). اومقارنة بعزل ماوجب كله اوبعضه ولايخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء (ايضا ج٢ ص ١٥).

([4]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب زكوٰة الغنم ج٢ ص ٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٩ – ٢٧٠ . ظفير

([5]). ولو عجل ذونصاب زكوٰة سنين اولنصب صح لوجود السبب الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب زكوٰة الغنم ج٢ ص ٣٢ ، ط. س. ج٢ ٢٩٣) ولو كان الدين على مقر الخ فوصل الى ملكه لزم زكاة ما مضى (كتاب الزكاة ج٢ ص١٢، ط. س. ج٢ ص ٢٢٢) ددی څخه معلومه سوه چی که چیری کال په کال یې ورکوی نو بیا زیات ورکولو ته ضرورت نسته، والله أعلم. ظفير

په وسائلو او الاتو کی زکوٰة سته اوکه نه؟ **سوال:** (۱۲۰) پرالاتو زکوٰة سته اوکه نسته؟ لکه دجامو دگنډلو په ماشین اوپه نورو باندی؟

جواب: دکسب گرو په آلاتو کی زکوٰة نسته لکه چی په درمختار کی دی، وکذالك الات المحترفين (١). فقط

کم ځای چی شپږ میاشتی په کرایه وی نو ددی څه حکم دی؟ **سوال:** (۱۲۱) داوسیدو ځای یادوکان چی دذاتی سکونت اودنورو څخه بالکل خالی وی یاپه ټول کال کی تخمیناً شپږ میاشتی په کرایه ورکول سوی وی، په دی باندی زکوٰة سته اوکه نه؟

جواب: په دی باندی زکوٰة واجب نه دی (٢). فقط

په دلالی سره چی کمی روپی جمعه سی په هغه باندی زکوٰة سته اوکه نه؟ **سوال:** (۱۲۲) زید دلالی کوی اومشتری ته وایې چی زما څخه یې په لس روپی غواړی مگر ما ورلره ورنه کی، مشتری په دی ترغیب سره واخیستی، اوزید ته ددلالی مزدوری ورکوی، دزید سره ددی مزدوری څخه دنصاب په اندازه روپی جمع سوی دی نوپه زید باندی زکوٰة واجب دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورة کی زید ددرواغو په ویلو گنهگار سو اوپه حدیث پاك کی دی چی په داسی بیعه کی برکت نه وی، خو زید ددی دثمن مالك گرځی (٣)، او زکوٰة وربانډی لازمیږی (٤). فقط

ددروغو په دلالی سره چی روپی جمع سی په هغه کی زکوٰة سته اوکه نه؟ **سوال:** (۱۲۳) زید عمر ته وویل چی دادبکر مال دی خالد ددی شل روپی ورکولی مگر ما ورنه کړی، په حقیقت کی خالد پنځلس روپی ورکولی عمردده په دی تشویقولومال واخیستی او څلور روپی یې دلال ته ورکړی دزیدسره ددی لاری څخه دزکاة برابری روپی جمع سوی نودزید

---

(١). ولا زكاة في ثياب البدن الخ وكذلك آلات المحترفين (ايضا ج٢ ص ١٠ – ١١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٤ – ٢٦٥). ظفير

(٢). فلا زكوٰة على مكاتب الخ واثاث المنزل ودور السكنٰى ونحوها (درمختار) كالحوانيت والعقارات (رد المحتار كتاب الزكاة ج٢ ص ١٠ . ط. س. ج٢ ص ٢٦٣ – ٢٦٥). ظفير

(٣). واما الدلائل فان باع العين بنفسه باذن ربها فاجرته على البائع وان سعى بينهما وباع المالك بنفسه يعتبر العرف (درمختار) فتجب الدلالة على البائع او المشتری او عليهما بحسب العرف جامع الفصولين (ردالمحتار كتاب البيوع فصل فيما يدخل فی البيع تبعًا قبيل مطلب فی حبس المبيع الخ ج٤ ص ٥٧ ، ط. س. ج٢ ص ٥٦٠). ظفير

(٤). الزكوٰة واجبة على الحر العاقل البالغ المسلم اذاملك نصابا تاما وحال عليه الحول (هدايه كتاب الزكوٰة ج١ ص ١٦٧). ظفير

پرذمه باندی زکوٰة واجب دی اوکه نه؟

جواب: واجب دی. (١) فقط

دمدرسی مهتمم ته چی دزکاة مال حواله سی په دی سره زکوٰة اداء کیږی اوکه نه؟ سوال: (١٢۴) مهتمم ته دزکاة دمال په سپارلو سره زکوٰة اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: مهتمم ته دزکاة مال په حواله کولو سره زکوٰة نه اداء کیږی کم وخت چی مستحقو کسانو ته ولیږل سی هغه وخت اداء کیږی (٢) (دمدرسی منتظمین دتملیك دحیلی څخه وروسته دزکاة هغه مال په خزانه کی جمعه کولی سی، دحیلی په وخت کی زکوٰة اداء کیږی. ظفیر)

دیو شی قیمت چی ولګول سی او زکاة یې ورکول سی او بیا په قیمت کی زیاتوالی راغی ددی څه حکم دی؟ سوال: (١٢۵) یوه سړی یوه کرتی په زکوٰة کی ورکړه اودزکاة دورکولو په وخت کی یی قیمت آته آنی وو، دورکولو څخه وروسته معلومه سوه چی دکرتی قیمت پاوکم یوه روپی (دولس آنی) وو، نوپه دی صورة کی دولس آنی په زکوٰة کی حسابیږی او که نه؟

جواب: ښکاره خبره ده چی که چیری کرتی دهغه چاسره موجوده وه چی ورکړی یې وه نو دولس آنی په زکوٰة کی شمارل کیږی. فقط

دکرایه پرځای باندی زکوٰة: **سوال**: (١٢٦) دکرایه دپاره چی کم ځایونه دی دهغه په کرایه باندی زکوٰة واجبیږی اوکه نه دهغه پرملکیت باندی؟

دقرض دروپو زکوٰة دوصولو کیدو څخه وروسته: **سوال**: (١٢٧) کمه قرضه چی دوصول قابله وی دهغه به هم زکوٰة ورکوی اوکه نه دقرض دوصول کیدو په صورة کی اوکمه قرضه چی فی الحال قابل وصول وی لیکن کیدی سی چی څه موده روپی غیر قابل وصول سی، یا بعضی قرضه په قسطونو باندی وصول سی په دې باب کی څه ارشاد دی؟

جواب: ١١: پرهغه کرایه باندی زکوٰة دی چی دنصاب اندازی ته رسیدلی وی اودیو کال په تیریدو باندی واجبیږی (٣).

---

(١). الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ المسلم اذا ملك نصابا تاما وحال علیه الحول (هدایه کتاب الزکوٰة ج١ ص ١٢٧). ظفیر

(٢). اونوی عند الدفع للوکیل ثم دفع الوکیل بلانیة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج٢ ص ١۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٨). ظفیر

(٣). ولا فی ثیاب البدن واثاث المنزل ودور السکنٰی ونحوها (درمختار) قوله نحوها ای کثیاب البدن الغیر المحتاج الیها وکالحوانیت والعقارات (ردالمحتار ج٢ ص ١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦۴ - ٢٦۵) ولوکان الدین علی مقر ملئ (الی قوله) فوصل الی ملکه لزم زکوٰة ما مضٰی الخ (درمختار ج٢ ص ٢٦٦). ظفیر

۲۱: دقرضی دوصول څخه وروسته دزکاة ورکول واجبیږی، لیکن که چیری دقرضی دوصول کیدو څخه مخکی زکوٰة ورکړی نودا هم جائزده کمه قرضه چی قابل وصول وی او وروسته کیدای سی غیر قابل وصول سی ددی هم همدا حکم دی، دتیر سوی وخت زکوٰة هغه وخت واجب ګرځی کله چی وصول سی پردی هم همدا حکم دی، لیکن که چیری فی الحال یې ورکړی نو داهم صحیح ده اوقرض که چیری په قسطونو سو نوڅومره چی وصول کیدی دهم هغه اندازی روپو زکوٰة به ورکوی اوکه چیری په یو واریې ورکړی برابره ده چی په لومړی وار یې ورکوی اویا وروسته یې ورکوی دا درست اوصحیح کار دی ([1]). فقط

دزکات روپی چی غلا سی ددی څه حکم دی؟ سوال: (۱۲۸) یوه سړی درمضان په میاشت کی زکوٰة ورکی یوه اندازه یې تقسیم کی او یو څه روپی یې وساتلی په دی غرض چی وخت په وخت به یې ورکوی اوپه یوځای کی یې روپی کښی ښوولی، یوه اندازه روپی ورڅخه غلا سوی اویوڅه اندازه یې ورکول سی، نواوس ددی څه حکم دی؟

جواب: هغه اندازه روپی چی غلا او ورکی سوی دی بیابه یې ورکوی ([2]). فقط

په جائزه اوناجائزه طریقه باندی چی روپی ترلاسه سی نوددی زکوٰة به څنګه باسی؟ سوال: (۱۲۹) دزید کارو بار هم سته اورشوت هم اخلی زید درشوت مال دتنخواه سره یوځای جمعه کوی تردی چی ډیری روپی څینی جوړی سوی مګر اندازةً یې داهم یاد دی چی ډیری روپی پکښی درشوت هم دی نوپر زید باندی ددی ټول مال زکوٰة واجبیږی اوکه نه؟ اوکله چی دواړه مالونه سره ګډوډ سی نوددی روپو څخه دضرورت په اندازه روپی اخلی او حج باندی کولی سی اوکه نه؟ کله چی زید ته علم وی چی دتنخواه روپی یې دحج دمصارفو په اندازه دی؟

جواب: دامام صاحب رحمه الله مذهب دادی چی حرام مال دخپل حلال مال مثلاً تنخواه سره یوځای سی نودټوله مال څخه به زکاة ورکی په دې شرط چی دتنخواه روپی دومره اندازه وی چی ددی حرام مال معاوضه خپلو خاوندانو ته چی څینی اخیستی یې دی او یا دهغو ورثه ؤ ته ورکړی اودهغه څخه وروسته پاته روپی دنصاب په اندازه پاته سی اوکه چیری اکثره مال حرام وو نوبیا زکاة واجب نه دی ([3]). بلکی دغه دحرام مال ټولی روپی داصل

([1]). ولوکان الدین علی مقر (الی قوله) فوصل الی ملکه لزم زکوٰة مامضٰی (درمختار ط. س. ج۲ ص ۲۷۲). ظ

([2]). وشرط صحة ادائها نیة مقارنة له (الی قوله) اومقارنة بعزل ما وجب کله اوبعضه ولا یخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء (درمختار) فلوضاعت لا تسقط عنه الزکوٰة (ردالمحتار ج۲ ص۱۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۸). ظ

([3]). ولو خلط السلطان المال المغصوب بماله ملکه فتجب الزکاة فیه ویورث عنه (الیٰ قوله) وهذا اذا کان له =

مالك دپيدا كيدلو دمتعذر كيدو په وجه خيرات كول يې لازم دی اوكه چيری دتنخواه روپی دومره اندازه وی چی په هغه باندی حج كولی سو، نوهغه دی ورڅخه راجلا كړی اوپه هغه باندی دی حج وكړی دا درست اوصحيح كار دی (١). فقط

چاته چی دزكاة دروپو دتقسيم وويل سی او هغه يې په خپل ځان مصرف كړی: سوال: (١٣٠)

زيدعمرته وليكل چی دزكاة روپی په فلانی اوپه فلانی باندی تقسيم كړه عمر دغه دزكاة دغه روپی دخپل ځان سره وساتلی اووی لګولی، نوكه چيری زيد اوس اجازه ورته وكړه نو زكاة يې اداء كيږی اوكه نه؟

جواب: په درمختار كی دی، وللوكيل ان يدفع لولده الفقير وزوجته لا لنفسه الا اذا قال ربها ضعها حيث شئت وفى الشامى وهذا حيث لم يامره بالدفع الى معين الخ (٢)، ددی څخه معلومه سوه چی كله زيد تعين وكی چی فلانی او فلانی ته دزكاة روپی وركړه نوپه دې صورت عمر ته ددې خلاف كار كول درست نه دی، او دخپل ځان سره يې په اېښوولو اومصرف كولو سره نه اداء كيږی، دعمر پرذمه باندی دضمانت دغه روپی واجب دی او دلګولو څخه وروسته دزيد اجازه لرل كافی نه دی اوپه دی سره زكوٰة نه اداء كيږی. (٣) فقط

دسند په واسطه چی كم مال ترلاسه كيږی ددې زكوٰة به دكله څخه واجبيږی؟ سوال: (١٣١)

زيد ديو ځای مالك اوقابض او متصرف دی دوخت حاكم په يو وجه دغه ځای دزيد څخه واخيستی اوعمرته يې وركړی، عمر زيد ته يوه اندازه مځكه دكښت اوكروندې لپاره داتيا كالو لپاره وركړه، وروسته يې اولاد ورباندی كښت او كرونده كوله ، بيا دعمر اولاد زيد دمځكی څخه وشړی اوڅو كاله يې دهغه پيداوار ترلاسه كوی، بالاخره دزيد وارثانو خپل پخوانی ملكيت او دمځكی پخوانی ملكيت په عدالت كی وركی، او دڅومره مځكی اسناد يې چی لرل اوهمدا ركم هرڅومره كاله چی عمر ورباندی كښت او كار كړی اوپيداوار يې اخيستی وو دهغه دحاصلاتو اسناد هم دزيد ورثه وو ته په لاس ورغلل، په وارثانو كی دزيد ښځه هم ده چی دنصاب مالكه نه ده او دزكاة مستحقه هم ده،داهم دډيری برخی مځكی حاصلات ترلاسه كوی كم چی غالبا دسندپه واسطه لاس ته

= المال غير ما استهلكه بالخلط منفصل عنه يوفى دينه والا فلا زكاة كما لو كان الكل خبيثا (درمختار) في القنية لوكان الخبيث نصابا لايلزمه الزكاة لان الكل واجب التصدق عليه فلايفيد ايجاب التصدق ببعضه ؒ (ردالمحتار باب زكوٰة الغنم ج٢ ص ٣٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٠) . ظفير

(١). ويجتهد فى تحصيل نفقة جلال فانه لايقبل بالنفقة الحرام كما مر ورد فى الحديث مع انه يسقط الفرض عنه معها ؒ (ردالمحتار مطلب فى من حج بمال حرام ج٢ ص ١٩١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٢). ظفير

(٢). و (٣). وګوری درالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٩. ظفير

ورځی، دا کار دپوښتنی قابل دی :

الف: پیداوار اوحاصلات دزید کونډی ته دنصاب څخه زیات په لاس ورځی نوددی زکوٰة پردی فلانی باندی دحاصلاتو دوصولولو په وخت کی واجبیږی اوکه نه دتیرو کلونو زکوٰة هم ورکول په کاردی؟ چونکی دمځکی پیداوار روپی دی ته په یووار سره لاس ته نه ورځی بلکی فصل په فصل اویا دکال په حساب، نو دتیرو کلونو زکوٰة ددی حساب څخه ورکی چی څومره روپی په دومره موده کی دوصول کیدو دورځی څخه متصور دی او یا په بلی کمی طریقی سره؟

بآء : په دی صورة کی دهرسنددا جراء وخت دری کاله دی نومعلومه نه ده چی ټولی حصی به یې لاس ته ورسی اوکه نه یوه برخه اوکه نه بالکل هیڅ به هم لاس ته ورنسی نوپه دی صورة کی نوموړی کونډه دزکاة مستحقه ده اوکه نه؟

جواب: \الف: دکم وخت څخه چی سند سوی دنوموړی پرذمه باندی دواجب سوو روپو زکوٰة دهم هغه وخت څخه لازمیږی او دزکاة اداء کولو دروپو دوصول څخه وروسته درباندی لازمیږی.

\ب: او دنوموړی ښځی سند محل دزکاة نه دی که چیری ضرورت یې وو نوقرض دی را واخلی، اوچی کله روپی لاس ته ورلره ورغلی قرض به خلاص کړی اوپه اندازه دقرض کی زکوٰة واجبیږی، قال فی الدر المختار ومغصوب (ای ولا تجب فی مغصوب) لا بینة علیه فلو بینة تجب لما مضٰی قال الشامی ای تجب بعد قبضه من الغاصب لما مضٰی من السنین قال وینبغی ان یجری هنا مایاتی مصححا عن محمد من انه لا زکوٰة فیه لان البینة قد لا تقبل فیه آه شامی ج٢ ص ١١.

__دتیرو کلونو زکوٰة ضروری دی اوکه نه؟__ **سوال**: (١٣٢) الف: دتیرو کلونو زکوٰة ورکول ضروری دی اوکه نه؟

ب: داوسیدلو دکور څخه غیر نور دوه دری ځایونه دی دهغه زکوٰة ورکول په کاردی اوکه نه، او چی ورکوی یې نوپه کم حساب سره؟

ج: کمه قرضه چی وصول سی په هغه باندی زکوٰة ورکول ضروری دی اوکه نه؟

د: یوشخص نه زکاة ورکوی اونه یې لمونځ کوی هغه اوس زکوٰة ورکول غواړی نوڅنګه وکړی؟ او دتیرو کلونو زکوٰة په څه طریقه سره اداء کړی؟

جواب: \ الف: دتیرو کلونو زکوٰة ورکول ضروری دی.

\ب: ددغه ځایو په قیمت کی زکوٰة نسته، خوکه چیری کرایه دنصاب په اندازه حاصله سوه اوپه هغه باندی کال تیر سی، نوبیا په دی روپو باندی زکوٰة راځی.

\ج: قرضه چې كله وصول سي نوزكاة دى وركړى.
\د: كله چې دده پرمال كال تير سوى وى اومال دنصاب په اندازه وى نوسم دستى دزكات وركول په كاردى اودتيرو كلونو هم دكله څخه چې دامال ورسره دى زكوٰة وركول لازم دى. فقط

الف: فانه دين فى ذمته قال فى الدر المختار ج٢ ص ٦ على هامش الشامى فى بيان شرائط وجوب الزكوٰة فارغ عن دين له مطالب من جهة العباد سواء كان لله كزكاة الخ.

ب: ومنها (اى من شرائط وجوب الزكوٰة) كون النصاب ناميا (فتاوٰى عالمگيريه ج١ ص ١٧١).

ج: ولوكان الدين على مقر ملى اوعلى معسر (الى) فوصل الى ملكه لزم زكوٰة ما مضٰى (درمختار على الشامى ج٢ ص ١٣) وتفصيل الديون مع احكامها مذكور فى موقعه. جميل الرحمٰن)

كمى روپى چې دزكاة په نيت وساتل سي نوكه چيرى هغه وركړل سي نوزكاة اداء كيږى اوكه نه؟ **سوال**: (١٣٣) دزكاة دوركولو نيت يې وكى نو روپى يې وساتلې يا يې چاته وركړى او يايې ځينى وى وړى نوزكاة يې اداء سو اوكه نه بيابه يې اداء كوى؟
جواب: زكاة يې نه دى اداء سوى او بيايې اداء كول په كاردى. ([1]) فقط

درمضان څخه غير په نورو مياشتو كى زكوٰة ايستل كيږى: **سوال**: (١٣۴) درمضان المبارك څخه علاوه په نورو مياشتو كى هم زكاة ايستل كيږى اوكه نه؟
جواب: درمضان المبارك څخه علاوه په نورو مياشتو كى زكوٰة وركول درست اوصحيح دى په رمضان شريف كى ددى كم تخصيص نسته، بلكى چې په كم وخت دكال كى چې دمال كال پوره سى په هم هغه وخت كى زكوٰة وركول ښه دى، البته دكم مال چې كال يې په رمضان شريف كى پوره سى نوپه رمضان كى دى وركړى داخبره ضرور سته چې په رمضان كى يې ثواب داويا ٧٠ چنده څخه زيات دى دهمدى له امله اكثره خلگ دخپل مال حساب په رمضان كى كوى.

دكور پرخلكو چې دزكاة په نيت خيرات وكړى نوزكاة يې اداء كيږى اوكه نه؟ **سوال**: (١٣٥) كم سړى ته چې زكوٰة وركول كيږى نوكه چيرى دده دكور يوسړى يوڅه چاته دزكاة په نيت ورنه كى اودمال مالك خبر كړى، څه ركم چې دا داخيستل سوى لاس والا څخه لگيدلى (مصرف) سويدى نودمال مالك ته دخبر وركولو په وخت كى داپه زكوٰة كى حسابيږى او

---

[1]. ولايخرج من العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء (درمختار) فلو ضاعت لا تسقط عنه الزكوٰة (ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١۵ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧٠). ظفير

که نه؟ اوکور والا ته یې چې یوڅه قرض ورکړی اومالك یې دخبریدو په وخت کی دزکات نیت وکړی نودا په زکات کی حسابیږی اوکه نه؟

جواب: که چیری مالك یې دمخکې دمخکی څخه کور والاوو ته دورکولو اجازه کړی وه چې دوی ته زکاة ورکړی، نوکله یې چې دکور خلګو ته دزکاة په نیت چې څه ورکړی نو زکاة یې اداء سو اوکه داسی نه وی نو بیابه دمالك تراجازی پوری که چیری دغه روپی دهغوی په لاس کی وی چاته یې چې ورکړی وی نودزکاة نیت صحیح کیږی اواداء کیږی اوکه لګول سوی وی نوبیایې زکوٰة نه دی اداء سوی، اوپه قرض ورکول سوو روپو کی دزکاة نیت نه صحیح کیږی، په داسی صورة کی فقهاء وو لیکلی دی چې دغه روپی به ځینی وصول کړی اوبیا به یې دزکاة په نیت ورکړی (۱). فقط

دزکات روپی دپوست بکس په ذریعه په لیږلو سره زکوٰة اداء کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۳٦) زید ددیوبند عالی مدرسی ته څلور روپی دزکاة په شکل کی ورکول غواړی نوکه چیری دغه روپی دپوست خانی دلاری څخه ولیږی نودزکاة په اداء کولو کی خوکمه خرابی نه را منځته کیږی؟

جواب: دپوست خانی دلاری دزکاة په لیږلو کی هیڅ خرابی نسته، مهتمم دی ولیکی چې دادزکاة روپی دی.

په حیله باندی زکوٰة اداء کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۷) په ذکرسوی حیله سره زکوٰة اداء کیږی اوکه نه؟ که زکوٰة نه وی اداء سوی نوددی ضمان به دمصرف کوونکی په غاړه وی اوکه نه؟

دمدرسی اراکین څنګه وی؟ سوال: (۱۳۸) داسلامی مدرسو اراکین دروژی اودلمانځه پابیند په کاردی اودهغوی وضع اوشکل دشریعت موافق په کاردی اوکه نه؟

ظاهری حال چې دچا دشرع خلاف وی هغوی دمدرسی اراکین اومنتظمین جوړیدلی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۹) کم خلګ چې دلمانځه او دروژی پابینده دی اوظاهری حالت یې دشریعت خلاف وی، داسی کسان داسلامی مدرسو ارکان جوړیدلی سی اوکه نه؟

جواب: ۱\: هو اداء کیږی (۲)

۲\: کله چې زکوٰة اداء سی نوضمان یې پر هیچا نه واجبیږی.

---

(۱). وشرط صحة ادائها نية مقارنة له ای للاداء ولوکانت المقارنة حکما کما لودفع بلانية ثم نوی والمال قائم فی يد الفقير الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص۱۴، ط. س. ج۲ ص ۲۲۸). ظفير

(۲). وحيلة التکفين بها التصدق علی فقير ثم هو يکفن فيکون الثواب لهما وکذا فی تعمير المسجد الخ (در مختار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۲۷۱). ظفير

۳۱: دغه خلگ باید پرشریعت برابر وی.
۴۱: دغه رکم خلگ دمدرسی اراکین اومنتظمین جوړول درست اوصحیح کارنه دی.

دزکاة اداء کول په ذکر سوی صورة کی نه دی سوی: سوال: (۱۴۰) زید عمر ته دزکاة دپاره وویل چی یوڅه روپی په زکوٰة کی راکړه زه به یې په مدرسه اویاپه طالبانو ولګوم عمر دزید په وینا سره یوڅه روپی ورکړی اونور هیڅ څه تفصیل یې ورنه کی، په اتفاقی توګه زید دغه روپی په خپل ذاتی ضرورت کی مصرف کړی کمی روپی چی دزکاة ورته راغلی وی اوساتلی یې وی دقرض په توګه یې واخیستی اومصرف یې کړلی څوورځی وروسته یې دده دطرف څخه دزکوٰة نیت وکی اوپه مدرسه کی یې ورکړی نودا زکاة اداء سو اوکه نه؟ اوکه زکوٰة یې اداء سوی نه وی نوپه کمه طریقه یې اداء کی؟ اوکمی روپی چی دزکوٰة په نیت ورکړی دهغه څه حکم دی؟
اوپه زید کی دومره مالی طاقت نسته چی عمرته دهغه دملکیت روپی ورکړی البته ده عمر ته ویلی وه چی ستا دزکاة روپی مصرف سوی دی او روپی می ستاسی دطرف څخه ورکړی دی؟

دزکاة داداء کولو یو صورة: سوال: (۱۴۱) زید عمر ته یو څو روپی ورکړی چی څو شیان باندی واخلی، چی په هغه کی یې یوڅه شیان واخیستل اووروی لیږل اوپاته روپی یې په خپلو ذاتی شیانو ولګولی، کم وخت چی یې روپی ورلره ورکولی نو دهغه روپو هیڅ ذکر پکښی ونه سو چی که ستا ضرورت پیښیدی نومصرف یې کړه، لیکن که چیری اوس یې ذکر وسی لکه چی معامله یوه ده غالبا انکار نه کوی، زید چی پاته روپی ورلیږلی ورته یې وویل چی هرڅومره روپی پاته سی هغه دزکاة په حساب کی ونیسه ، او دزکوٰة په شکل کی یې مصرف کړه ددی په لیکلو سره جواب راغی چی دزکوٰة په شکل کی می ورکړی دی، نو آیا په دی صورة کی زکوٰة اداء سو اوکه نه؟

دزکاة روپی چی په ذاتی ضرورت کی مصرف کړی او بیا زکوٰة اداء کړی: سوال: (۱۴۲) د رمضان په میاشت کی یې دزکاة روپی جلا کښیږدولی څو ورځی وروسته یې هغه په خپل ضرورت کی مصرف کړلی اوبیا یې دزکوٰة په نیت اداء کړی، نو داکار جائزدی اوکه نه؟ اوزکاة یې اداء کیږی اوکه نه؟ او درمضان دمیاشتی ثواب یې کیږی اوکه نه؟

دزکاة روپی چی دقرض په طور سره مصرف کړی: سوال: (۱۴۳) زید دڅو ځایونو څخه دزکاة روپی راجمعه کړی اوپه خپلو ضرورتونوکی یې دقرض په طریقه سره مصرف کړی، زید دنصاب خاوند دی لیکن دومره طاقت یې نسته چی دفعةً زکوٰة اداء کړی، دزکاة روپی په دی طریقه اداء کوی چی دماهانه خرچی څخه لږ لږ څه بچ کوی اوپه زکوٰة کی یې

ورکوی، نوپه دی طریقې سره ددواړو زکوٰة اداء کیږی اوکه نه؟ او یا چې داداء کولو کوم شرعی صورة وی نوموږ ورڅخه خبر کی ؟

په زکاة کی حیله: **سوال**: (۱۴۴) په اکثره مدرسو کی دوامداره چنده ډیره کمه وی او دزکاة په شکل کی واجبی صدقې، دقربانی پوستکی اونور نور جمع کیږی، څه رکم چې ددوامداره چندې څخه دمدرسینو تنخواه نه پوره کیږی، او دزکاة روپې جمعه کیږی، ددی دپاره دمدرسې اراکین دمهتمم دنائب سره داسې حیله کوی، چې دزکاة دغه روپې کم غریب سړی ته ورکړی اوهغه یې مالك جوړ کړی، اوهغه ته یې داسی ویلی وی چې ته یې دخپل طرف څخه په مدرسه کی ورکړه، په دارکم حیله کولو سره دزکاة روپې دمدرسینو په تنخواه کی مصرف کیدلی سی اوکه نه؟

جواب: \۱\: په دی صورة کی دعمر زکوٰة نه اداء کیږی زید به دعمر روپې ورکوی، اواوس دروپو دمصرف کولو څخه وروسته دعمر څخه اجازه اخیستل دزکاة ساقطول نه افاده کوی یعنی زکوٰة نه اداء کیږی، قوله والمال قائم فی ید الفقیر بخلاف ما اذا نوی بعد هلاکه الخ، بحر شامی.

\۲\ : په دی صورة کی زکوٰة اداء کیږی په درمختار کی دی چې: وشرط صحة ادائها نیة مقارنة له ای للاداء ولوکانت المقارنه حکمًا اونوی عند الدفع للوکیل ثم دفع الوکیل بلا نیة. شامی ج۲ ص ١٤٧) .

\۳\: داکار جائزدی اوزکاة اداء کیږی خودرمضان المبارك دمیاشتی دورکولو ثواب یې نه کیږی (په درمختارکی دی وشرط صحة ادائها نیة مقارنة له، ای للاداء ولوکانت المقارنة حکمًا. شامی ج۲ ص ۱۴۷). ظفیر

\۴\: مخکی زکوٰة ورکولو والاته چې داصورة بیان کړی اوبیا دهغه داجازی څخه وروسته دهغه دطرف څخه زکوٰة ورکړی نو اداء کیږی. ([1])

\۵\: داحیله صحیح اوسمه ده اوددی حیلی څخه وروسته دمدرسینو په تنخواګانو کی ددی روپو لګول جائزدی، اودهرڅومره روپو دپاره چې حیله کول غواړی په یوه وخت کی دی وکړی په دی کی دنصاب اندازه شرط نه ده صرف داولی اودغیر اولی فرق پکښی دی، او دحیلی کولو والا اودهغه چا دپاره چې کیږی دیوه دپاره هم پکښی ګناه نسته، او په صالحه اوپه ښه نیت باندی دثواب امید سته ([2]). فقط

([1]). قال فی التتارخانیة الا اذا وجد الاذن اواجاز المالکان آه اجاز قبل الدفع الی الفقیر (ردالمحتار ج۲ ص ۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۹). ظفیر

([2]). وحیلة التکفین بها التصدق علی الفقیر ثم هو یکفن فیکون الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص ۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۱). ظفیر

دریم باب

دځـــارویـــو زکـــوٰة

دکروندې یا دشیدو دپاره چې کم حیوان وي په هغه کې زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (۱۴۵) دزراعت دپاره چې کم سړی حیوان وساتی اودهغه سره یوشمیر غواګانی اومیښی وساتی ترڅو دهغه څخه دخپل اهل اوعیال دپاره غله اوغذا برابره کړی او دهغه بچې دزراعت دپاره په کار راولی نوآیا هرکال ددی ځارویو څخه زکوٰة ایستل په کاردی، کله چې دغه حیوان په پراخه ځنګل کې څرېږي اوددی ځنګلی پراخه مځکی ټاکلی محصول حکومت ته ورکوی؟

جواب: دزراعت دپاره چې دکمو حیواناتو پرورش کیږی که څه هم څریدونکی وی په هغه کې زکوٰة واجب نه دی او دشیدو چنبلو او دنسل ساتنی اودنورو دپاره چې کم حیوانات پالل کیږی اوهغه څریدونکی وی پرهغه زکوٰة واجب دی په دی شرط چې نصاب ته ورسیږی (١). فقط

کم مختلف حیوانات چې یوکور ورته خلاص سی دساتنی دپاره، نو ایاپه دی کې زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (۱۴۶) زما سره دوی میږی، او یو ګامیښ، او اووه لس غواګانی، دری غوایان، دیارلس سخوندرګیان چې ټول (۳۲) حیوانات دی، دکمو دپاره چې ګیاه مزدوران دشپې ریبی اوواښه ورکوی اودانه هم ورکوی، نوپه دغسی حیواناتو باندی زکوٰة سته اوکه نه؟

جواب: په دغه حیواناتو کې زکوٰة نسته لکه چې په شامی کې دی چې: اذ لو حمل الکلاء الیها فی البیت لا تکون سائمة (٢).

کم حیوانات چې استعمالیږی په هغه کې دزکاة حکم: سوال: (۱۴۷) غوایان چې دزراعت او اسونه دسپرلی اوغواګانی دشیدو چنبلو دپاره وی نوپه دغو حیواناتوکی زکوٰة سته اوکه نه؟

جواب: په دی حیواناتو کې زکوٰة نسته (٣). فقط

---

(١). هي الرعیة وشرعا المکتفیة بالرعی المباح فی اکثر العام لقصد الدر والنسل ﷺ والزیادة والسمن لیعم الذکور فقط لکن في البدائع لو اسامها اللحم فلا زکاة فیها کما لو اسامها للحمل والرکوب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب السائمة ج١ ص ٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ۲۷۵). ظفیر

(٢). ردالمحتار باب السائمة ج٢ ص ٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ۲۷۵). ظفیر

(٣). ولیس فی دور السکنٰی وثیاب البدن واثاث المنازل ودواب الرکوب وعبید الخدمة وسلاح الاستعمال زکوٰة (هدایه ج١ ص ١٩٢ ، ط. س. ج ٢ ص ۲۲۴ - ۲۲۵). ظفیر

په سرلیو کی زکوٰة: **سوال:** (١٣٨) دبزو اوسرلیو په زکوٰة کی پربچو یې زکوٰة راځی، او بچی یې دغتیو سره شمارل کیږی اوکه نه؟

جواب: دغتیو سره شمارل کیږی اوزکاة په ټولو باندی راځی (١).

دحیواناتو زکوٰة: **سوال:** (١۴٩) دیوسړی سره څلورمیږی اوڅلور غوایان، اودری غواګانی، یوآس، اویو اوښ چی تخمیناً دزرو روپو قیمت لری ددوی دپاره ګیاه اوواښه اخیستل کیږی اوساتل کیږی، نوپه دی باندی شرعی زکوٰة سته اوکه نه؟

جواب: که دغه حیوانات دتجارت دپاره نه وی نو زکوٰة پکښی نسته (٢). فقط

څلورم باب

په سرو او سپینو زرو او نغدو کی زکوٰة

دسرو او دسپینو زرو په نصاب کی دومره اندازه تفاوت ولی دی؟ **سوال:** (١٥٠) زکوٰة په هغه خلګو باندی واجب دی چی دچاسره دوپنځوس نیمی تولی سپین زر اویا اوه نیمی تولی سره زروی دامی په سوچ کی نه راځی چی (٥٢) نیمی تولی سپین زوره او(٧) نیمی تولی سرو زرو ترمینځ څه مناسبت دی مثلاً چی سپین زر یوه توله په روپی ده نو ددی قیمت یوازی دوپنځوس نیمی روپی جوړیږی اوکه چیری دسرو زرو قیمت دیوې تولی (٣٠) روپی وی نوبیا ددی قیمت (٢٢٥) روپی جوړیږی، نوآیا په تیره زمانه کی به دسرو زرو او دسپینو زرو قیمت یو ډول برابریدی که څنګه ؟

جواب: دپیغمبر ﷺ په زمانه کی اودهغه څخه په وروسته زمانه کی هم تریوی زمانی پوری دسرو اودسپینو زرو په قیمت کی تقریباً دومره تفاوت وو، څومره یې چی په نصاب کی تفاوت دی په دی وخت کی دیوه دینار سرو زرو قیمت دلسو درهمو سپینو زرورویودقیمت برابردی په دی حساب سره سره زرتقریباًپه لس روپی یوه توله کیږی (٣).

---

(١). ولافی حمل (الی قوله) الا تبعا لکبیر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج ٢ ص ٢٢ ، ط. س. ج ٢ ص ٢٨٢). ظفیر

(٢). ولیس فی دور السکنٰی وثیاب البدن واثاث المنزل ودواب الرکوب وعبید الخدمت وسلاح الاستعمال زکوٰة لانها مشغولة بالحاجة الاصلیة (هدایه ج١ ص ١٢٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢۴ و٢٢٥) ولافی ثیاب البدن (الی قوله) ونحوها وکذا الکتب وان لم تکن لاصلها اذا لم تنو للتجارة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج٢ ص ١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢۴ – ٢٢٥) وشرطه حولان الحول وتنمیة المال کالدراهم والدنانیر الخ اونیة التجارة (درمختار مختصراً. ج٢ ص ٢٢٧) . ظفیر

(٣). وفی الهدایة کل دینار عشرة دراهم فی الشرع (ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص۴٢) ددی څخه مخکی دی حاصله ان الدینار اسم للقطعة من الذهب المضروبة المقدرة بالمثقال فاتحادهما من حیث الوزن (ایضا ج٢ ص ٣٩) ددی څخه معلومه سوه چی په مخکی زمانه کی چی کم قیمت دشلو مثقالو سرو زرو وو هم هغه قیمت =

په میاشتنی حساب سره دزکوٰۃ اداء کول څنګه دي؟ سوال: (١٥١) دهری میاشتی چې حساب وسی نوهره میاشت یې زکوٰۃ اداء کول څنګه دي؟

جواب: په ذکرسوی طریقه سره دزکاۃ اداء کول درست اوصحیح دی ([1]).

دسپینو زرو په زکاۃ کی کم قیمت ته اعتبار دی؟ سوال: (١٥٢) سپین زر یا دسپینو زرو ګینه یې واخیسته دکمو نرخ چې یوه توله په دولس روپی ١٢ وه دکال په تیریدلو سره دسپینو زرو دیوې تولی نرخ څلور۴ نیمی روپی سو، یاددی برعکس صورۃ مخ ته راغی، نوزکاۃ به داخیستلو دنرخ څخه لګول کیږی اوکه نه دبازار دنرخ څخه؟

جواب: دسپینو یا دسرو زرو اویا ددی پرګینه باندی زکوٰۃ دوزن په اعتبار سره راځی، کله چې سپین زر دوپنځوس نیمی تولی وی نو څلویښتمه حصه زکوٰۃ ورکول په دی کی واجب دی په دی کی دقیمت لحاظ ساتل نسته په سلو روپو یاسلو تولو سپینو زرو کی دوی نیمی تولی سپین زر ورکول په زکوٰۃ کی لازم دی ([2]). (قیمت چې ولګول سی نو د زکاۃ دایستلو په وخت چې په بازار کی دسپینو زرو څومره وو، نو ددغه حساب څخه به زکاۃ اداء کړی او داخیستلو دورځی حساب به معتبر نه وی. ظفیر)

دچاسره چې په سرو زرو اوسپینو زرو کی دیوه نصاب وی او دبل نه وی نو څه به کوی؟ سوال: (١٥٣) دیوسړی سره دسرو او دسپینو زرو څخه دیوه نصاب دی اودبل نصاب نسته نو په دی صورۃ کی څه کول په کاردی؟ یو دبل دتابع کولو جزئیات دفقه په کتابونو کی پیدا کیږی خو هغه هلته چې ددی دواړو نصاب نه پوره کیږی.

جواب: په دی صورۃ کی به هم دواړه سره یوځای کړی اودتولو څخه به زکوٰۃ وباسی ([3]). (یعنی دیونصاب په وجه به دنصاب خاوندسی نودبل شی نصاب برابره خبره ده چې کم وی دهغه زکوٰۃ هم پرده باندی ضروری دی، دهغه به څلویښتمه حصه هم زکوٰۃ ورکوی والله اعلم. ظفیر)

= ددوو سوو درهمو دسپینو زرو هم وو، لیکن په اوس وخت کی ددوې دواړو ډیر فرق دی، په حکم کی چې کله صراحت دی نو دهمدی له امله څه رد او بدل نه پکښی راځی، والله تعالی اعلم. ظفیر

([1]). وان قدم الزکوٰۃ علی الحول وهو مالك نصاب جاز (هدایه قبیل زکوٰۃ المال ج١ ص ١٧٢). ظفیر

([2]). والمعتبر وزنهما اداء ووجوبا لا قیمتهما واللازم في مضروب کل منهما ومعموله ولو تبرا او حلیا ﷺ ربع عشر ﷺ (الدر المختار) قوله لا قیمتهما نفی لقول زفر باعتبار القیمة فی الاداء وهذا ان لم ینو من خلاف الجنس والا اعتبرت القیمة اجماعا کما علمت (ردالمحتار ج٢ ص ٤٠، ط. س. ج٢ ص ٢٩٧ و٢٩٨). ظفیر

([3]). ویضم الذهب الی الفضة وعکسه بجامع الثمنیة قیمة (درمختار) وفي البدائع ایضا ان ما ذکر من وجوب الضم اذا لم یکن کل واحد منهما نصابا بان کان اقل فلو کان کل منهما نصابا تاما بدون زیادة لا یجب الضم بل ینبغی ان یؤدی کل واحد زکاة فلو ضم حتی یؤدی کل من الذهب او الفضة فلا باس به عندنا (ردالمحتار باب زکوٰۃ المال ج٢ ص ٤٥ - ٤٦، ط. س. ج٢ ص ٣٠٣). ظفیر

دنوټونو زكاة: **سوال**: (١٥۴) نوټ چي وثيقه دقرض وګڼل سي نوددي زكوٰة دنغدو پروصول كيدو باندي موقوف دي اوكه بالفعل دكال په ختميدو يې اداء لازميږي؟

جواب: دزكاة داداء وجوب دنغدو په وصول كيدو باندي دي اونفس وجوب دمخكي څخه ثابت دي، لهذا دنغدو دوصول څخه وروسته هم دټولو تيرو كلونو زكوٰة وركول لازميږي (١). (په موجوده دوركي دنغدو انتظار بې فائدي دي په دي وجه چي نغدي نه پيداكيږي دهمدي له اصله كه چيري نوټ ټول كال وي نوپه دي باندي زكوٰة اودهغه اداء كول واجب دي. والله اعلم. ظفير)

پرګينه باندي زكوٰة سته اوكه نه؟ اودا په سړي باندي دي اوكه په ښځې باندي؟ سوال: (١٥٥) زما دكوروالا سره ددري څلوروسوو روپو دماليت ګينه ده كمه چي دهغې ملكيت دي، نوآيا په دي باندي زكوٰة سته؟ اوآيا څوك ددي دوركولو ذمه واردي؟ زما ښځه دآمدنى څه وسيله نه لري دكم څخه چي هغه زكوٰة اداء كړي نودزكاة اداء كول به څنګه كوي آيا هغه دخپلي ګينې يوه برخه خرڅه كړي چي زكوٰة باندي اداء كړي؟

جواب: ددي ګينې زكوٰة وركول هركال واجب دي، كه چيري دزكاة دوركولو بل يو داسې صورة رامينځ ته نسي نوداسې دي وكړي چي دخپلي ګينې يوڅه برخه دي دزكاة په اندازه پكښې وركړي، ځكه چي دا دالله ﷻ فرض دي، داګينه چي دا ددي ښځې ملكيت دي نوددي په ذمه باندي ددي دزكاة اداء كول لازم دي (٢). فقط

(داګينه خرڅوي اوزكاة يې اداء كوي او يايې خپل خاوندته وركړي چي هغه يې زكوٰة اداء كړي دواړه صورتونه جائزدي. ظفير)

دكونډې پرنغدو روپو زكوٰة سته كه چيري ضرور تمنده نه وه: **سوال**: (١٥٦) يوه كونډه ښځه ده دهغه سره صرف دوه نيم زره نغدي روپۍ دي اودوى انجوني يې واده سوى نه دي نو په دي روپو باندي زكوٰة واجب دي اوكه نه؟

جواب: په دي روپو باندي زكوٰة واجب دي (٣). فقط

په دوو تولو سپينو زرو كي زكوٰة: **سوال**: (١٥٧) په دوه سوه تولو سپينو زرو كي زكوٰة سته

(١). ولوكان الدين الخ فوصل الى ملكه لزم زكوٰة مامضٰى (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٦ و٢٦٧). ظفير

(٢). الزكوٰة واجبة على الحر العاقل البالغ المسلم اذاملك نصابا ملكا تاما وحال عليه الحول لقوله تعالى واتوا الزكوٰة. ولقوله ﷺ ادوا زكوٰة اموالكم. وعليه اجماع الامة والمراد بالواجب الفرض (هدايه كتاب الزكوٰة ج١ ص ١٦٧) وفى تبر الذهب والفضة وحليهما واوانيهما الزكوٰة (ايضا ج١ ص ١٧٧) . ظفير

(٣). وتنوية المال كالدراهم والدنانير لعينهما للتجارة باصل الخلقة فتلزم الزكوٰة كيفما امسكهما ولو للنفقة (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٣ ، ط. س. ج٢ص ٢٦٧). ظفير

اوکه نه؟ که چیری نغد قیمت ادا کول غواړی نوپنځه روپی به ورکوی اوکه دری روپی اودوې آنی چی دپنځه تولی سپینو زرو قیمت دی اوکه چیری سپین زر واخلی او وریې کړی نوزکاة یې اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: که چیری په روپیو سره زکوٰة اداء کول غواړی نوپه مذکوره صورة کی پنځه روپی ورکول په کاردی اوکه پنځه تولی سپین زریې واخیستل چی هغه هم دومره کیږی نوداهم جائز ده ([1]). فقط

ایا دسرو او دسپینو زرو ګینه په نصاب کی سره یوځای کیدی سی؟ سوال: (۱۵۸) دیوچا سره دشل یا دپنځه ویشتو روپو دسرو زرو ګینه ده او داوه ویشتو روپو دسپینو زرو ګینه ده نو ددی دواړو قسمونه چی یوځای سی نوآیا زکاة پکښی سته اوکه نه؟ اوکه دنصاب ځخه پنځه شپږ روپی زیات وی نودهغه به هم زکوٰة ورکوی اوکه نه؟

جواب: دسرو زرو او دسپینو زرو ګینه چی کله نصاب ته ورسیږی یعنی **۵۲** نیمی تولی وی نوددی زکوٰة پرده باندی واجب دی او دنصاب ځخه چی کمی روپی زیاتی دی په هغه کی به هم زکاة ورکوی، مطلب داچی دموجوده تولی ګینی زکوٰة به ورکوی ([2]). فقط

دسرو زرو او دسپینو زرو نصاب دهندوستان په وزن سره: **سوال**: (۱۵۹) آنجناب (تاسی) دسرو او دسپینو زرو نصاب په هندوستانی وزن او روپو سره په ځومره اندازه لیکلی دی، یوه روپی ځومره ماشی مقرره سویده اوځومره روپی پوره نصاب جوړیږی؟

جواب: دسپینو زرو نصاب دوه سوه درهمه دی، داوو مثقالوپه وزن یعنی چی لس درهمه داوو مثقالو برابروی ([3])، ددی وزن چی دروپیو او دتولی او دماشی په حساب سره وسی نو دوپنځوس نیمی تولی کیږی، (نن سباد **۵۲** نیمو تولو سپینو زرو قیمت چی یوه توله یې په دری روپی ده چی په دی حساب سره **۱۵۷** نیمی روپی کیږی لهذا زموږ په دی زمانه سنه **۱۳۸۵**هـ ق کی نصاب دغه سو. ظفیر) اودسرو زرو نصاب شل مثقاله دی چی

([1]). ویعتبر فیهما ان یکون المودی قدر الواجب وزنا الخ ولو ادی من خلاف جنسه یعتبر القیمة بالاجماع کذافی التبیین (عالمګیری مصری کتاب الزکوٰة باب ثالث ج۱ ص ۱۲۷ ، ماجدیه ج۱ ص ۱۷۸). ظفیر

([2]). واللازم فی مضروب کل منهما ومعموله ولوتبرا اوحلیا مطلقا الخ وفی عرض التجارة قیمة نصاب الخ ربع عشر الخ ویضم الذهب الی الفضة وعکسه بجامع الثمنیة قیمة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج۲ ص ۴۱ وص ۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۹۷ - ۲۹۸) دا واضحه سوه چی په ۱۳۳۸هـ ق کی دسپینو زرو نصاب **۵۲** نیمی تولی وو کله چی توله په یوه روپی وه چی اصل نصاب **۵۲** نیمی تولی دی، ددی قیمت کم از کم **۱۵۷** روپی دی لهذا دا دروپو نصاب دی، که چیری سپین زر ګران سوه نوپه همدی اعتبار سره به نصاب لوړیږی، والله اعلم. ظفیر

([3]). نصاب الذهب عشرون مثقالا والفضة مائتا دراهم کل عشرة دراهم وزن سبعة مثاقیل والدینار عشرون قیراطا، والدرهم أربعة عشر قیراطا، والقیراط خمس شعیرات، فیکون الدرهم الشرعي سبعین شعیرة، والمثقال مائة شعیرة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج۲ ص ۳۸ – ۳۹ ، ط. س. ج۲ ص **۲۹۵**). ظفیر

داوه نیمو تولو دسرو زرو سره برابردی یعنی دسرو زرو چی (۷) نیمی تولی وی نونصاب پوره دی اودا حساب په دی توگه چی یومثقال څلور نیمی ماشی مقرر سوی دی لکه څنگه چی همدغسی معروفه ده، نودوه سوه درهمه داوو په وزن د (۱۴۰) مثقالو برابر جوړیږی اودماشی په اعتبار (۲۳۰) ماشی کیږی داچی پردولسو تقسیم کړی (۵۲) نیمی تولی نتیجه ځینی را وزی.

دسرو زرو او دسپینو زرو په گینه کی زکوٰة: **سوال**: (۱۲۰) دالف سره یو څه دسپینو زرو او څه دسرو زرو گینه ده، اودده په ذمه واجب الاداء قرض هم دی دښځی یې دسپینو زرو گینه یې (۱۴۲) نیمی تولی ده او دنابالغه لوڼو دسپینو زرو گینه یې (۵۴) نیمی تولی ده، او دښځی دسرو زرو گینه یې پنځه تولی یوولس ماشی او ۴ رتی ده ددی څخه علاوه اته عدده وهل سوی سکی دساورن هم ورسره موجود ده اوپه نورو خلگو یې واجب الاداء ۹۷ نیمی تولی قرض هم دی، تقریبا دنورو خلگو هم پرده باندی ۱۲۴ نیمی تولی قرض دی یعنی دنورو خلگو هم قرضداردی، په ذکرسوی صورة کی په ده باندی واجب الاداء څومره زکوٰة کیږی دساورن سیکی قیمت به حسابیږی اوکه نه وزن دگینی سره شامل دی؟

جواب: دسپینو زرو دگینی مجموعه (۱۹۲۳\۴) نولس سوه درې شپیته پر څلور، تولی ده دسرو زرو او داشرفیو دقیمت په اندازه روپی به هم ددی سره شاملی کړی اوټول قرض یې (۱۲۲) روپی دی دابه ځینی کم سی کم چی پاته سی دهغو په هرو څلویښتو روپو کی به یوه روپی زکوٰة ورکړی (١) اودده چی پرچا باندی قرض دی کله چی دقرض دارو څخه وصول سی نوپه هم هغه وخت کیورباندی بیا دزکوٰة اداء واجب ده. (٢) فقط

کمه گینه چی همیشه نه اغوستل کیږی پرهغې باندی هم زکوٰة سته: **سوال**: (۱۲۱) کمه گینه چی همیشه نه اغوستل کیږی بلکی په بعضو موسمونو کی په تن کیږی نوکه پر هغه باندی زکوٰة واجب وی نو داخیستلو په قیمت به یې زکاة ورکړی او که نه دورځی په نرخ؟ اوسره دمزدوری اوکه نه بغیر دمزدوری څخه؟

جواب: زکوٰة په دی گینه باندی واجب دی ، او زکاة یې په وزن باندی واجب دی یعنی هر

---

(١). تجب فی کل مائتی درهم خمسة دراهم وفی کل عشرین مثقال ذهب نصف مثقال مضروبا کان اولم یکن مصوغا اوغیر مصوغ حلیا کان للرجال اولنساء تبرا کان اوسکة کذافی الخلاصة (عالمگیری مصری کتاب الزکاة باب ثالث فصل اول ج١ ص ١٢٧ ، ماجدیة ج١ ص ١٧٨) ومدیون للعبد بقدر دینه فیزکی الزائد ان بلغ نصابا (درمختار) قوله بقدر دینه متعلق بقوله فلا زکوٰة (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٣). ظفیر

(٢). ولو کان الدین علی مقر ملئ او علی معسر ...... ؒ فوصل الی ملکه لزم زکاة ما مضی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٢). ظفیر

څومره تولې سره زر اوسپین زر چې وی دهغه به حساب وکړی (١). فقط
(دګینې اعتبار نسته، دهمدی له امله دسرو زرو ګل بوټی اونور ټول دسرو زرو په حساب کی شامل دی، بلکې وزن ته اعتباردی دسپینو زرو نصاب (٥٢ نیمی) تولې دی اودسرو زرونصاب اوه نیمی تولې دی دنصاب خاوندچې وی اوپه زکاة کې روپۍ ورکول وغواړی نودزکاة دایستلو په وخت چې نرخ هرڅومره وی دهغه دحساب څخه به زکوٰة اداء کړی، داخیستلو دزمانې قیمت ته اعتبار نسته، مثلاً دیوی ښځې سره په تیره زمانه کې اخیستل سوی دسپینو زرو دسلو تولو ګینه ده چې اوس یې ټولې سل روپۍ کیږی په زکوٰة کې دوی نیمی تولې سپین زر کیږی اوس ددی قیمت په دی وخت کې دیوی تولې دری روپۍ کیږی چې په دی حساب سره به اوه نیمی روپۍ ورکوی ولی چې په دی وخت کې دبازار په نرخ دوی نیمی روپۍ ورکول درست اوصحیح نه دی).

دچا سره چې دنصاب په اندازه روپۍ ټکې وی په هغه باندی زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال:
(١٢٢) که چیری دیوچاسره دحاجت اصلی څخه زیات دنصاب داندازی څخه زیات دسرو اویا دسپینو زرو اویا دبل شی سکې وی مثلاً څلور یاپنځه سوه روپو پیسې اوټکې یا داوسپنې روپۍ وی، نغدی روپۍ نه وی نوپه دی باندی دکال په تیریدلو سره دزکوٰة حکم سته اوکه نه؟

جواب: په غیر دسرو زرو اودسپینو زرو څخه په نورو شیانو کې دزکاة دوجوب لپاره دتجارت نیت شرط دی وتفصیله فی کتب الفقه (٢). فقط (آنې او ټکې دحوالې په طور دی دهمدی وجه څخه په دی کې دتجارت دنیت څخه بغیر هم زکوٰة واجبیږی. ظفیر)

دزکاة روپۍ دبیمې دلاری لیږل په کار دی اوکه نه دډاکخانې دلاری څخه؟ سوال: (١٢٣) په جنتې کالې کې دی چې یوسړی بل سړی ته دزکاة روپۍ داداء کولو دپاره ورکړی اوهغه خپله خرچه ورڅخه واخیسته وروسته یې ځان ته اداء کړی نوزکاة اداء کیږی اوپه ډاك خانه کې هم داسې صورة کیږی نوکه چیری دزکاة روپۍ دډاکخانې په واسطه سره ولیږی نوآیا زکاة یې اداء کیږی اوکه دبیمې په واسطه لیږل په کاردی؟

جواب: ډیره داحتیاط خبره دا ده چې دبیمې په واسطه ولیږل سی ، لیکن د ډاکخانې په

---

(١). والمعتبر وزنهما اداء ووجوبا لا قیمتهما (درمختار) ای من حیث الوجوب یعنی یعتبر في الوجوب ان یبلغ وزنهما نصابا نهر حتی لو کان له ابریق ذهب او فضة وزنه عشرة مثاقیل او مائة درهم وقیمته لصیاغته عشرون او مائتان لم یجب فیه شيء اجماعا قهستانی (ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص ٤٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٧). ظ
(٢). شرط افتراض ادائها حولان الحول وهوفی ملکه اوتنمیة المال کالدراهم والدنانیر لعینهما للتجارة باصل الخلقة فتلزم الزکاة کیفما امسکهما ولو للنفقة اوالسوم الخ اونیة التجارة فی العروض (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٧). ظفیر

واسطه يې ليږل هم درست اوصحيح دى اوددى تاويل كيدلاى سى. فقط

په ګټل سوو روپوكى زكوٰة: **سوال**: (١٢۴) يوچاته چى څه روپى پاته سى نو دهغه څخه دزكاة ايستل په كاردى اوكه نه؟

جواب: روپى چى دنصاب په اندازه جمعه سى اوكال وربانـدى تيرسى نودهغه څخه زكاة ايستل واجب دى (١). فقط

كمى روپى چى دحج دپاره وركول سى اوپه هغه باندى كال تيرسى نوپه هغه كى زكوٰة سته اوكه نه؟ **سوال**: (١٢۵) زيد خپلو بچيانوته داوصيت وكى چى زما دمال څخه په څلور سوه روپو زما دطرف څخه حج وكړى اوپه زرو روپو كى په فقيرانو خوراك وكړى، دهغه دمرګ څخه وروسته په هغه زرو روپو باندى په فقيرانو خوراك وسو، خوحج يې دهغه څلورو سوو روپو څخه نه دى كړى چى يو كال وربانـدى هم تيرسوى دى. اوس ددى روپو دزكاة اداء كول فرض دى اوكه نه؟ اوڅوارلس سوه روپى دټول ثلث څخه هم كمى دى؟

جواب: ددى روپو څخه دزكاة ايستل فرض دى (٢). فقط

دځايونو په كرايه باندى زكوٰة: **سوال**: (١٢٦) دځايونو په كرايه باندى زكوٰة دى اوكه نه دهغه په قيمت باندى؟

جواب: كم ځايونه چى په كرايه باندى دوركولو دپاره اخيستل سوى وى دهغه ځايونو په كرايه باندى زكوٰة واجب دى (٣). فقط

په كمه ګينه كى چى نور مواد ګډ وى په هغه كى زكوٰة: **سوال**: (١٢٧) زموږ په ملك كى چى دطلاوو كمى ګينى جوړيږى نوپه هغه كى دريمه برخه ټګى اونور مواد ګډيږى، نو ددا سى ګينى څخه به په كم حساب سره زكوٰة وركول كيږى؟

جواب: په كمه ګينه كى چى سره زر غالب وى يعنى دنيمايې څخه پكښى سره زر زيات وى هغه دسرو زرو په حكم كى ده اودسوچه خالصو سرو زرو په شان پكښى زكاة واجب دى (۴). فقط

---

(١). الزكوٰة واجبة على الحر العاقل البالغ المسلم اذاملك نصابا ملكا تاما وحال عليه الحول (هدايه كتاب الزكوٰة ج١ ص ١٢٧). ظفير

(٢). نصاب الذهب عشرون مثقالا والفضة مائتا درهم كل عشرة دراهم وزن سبعة مثاقيل الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب زكوٰة المال ج٢ ص ٣٨ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩۵) . ظفير

(٣). وكذالك العطار لواشترٰى القوارير ولواشترى جوالق ليواجرها من الناس فلا زكوٰة فيها لانه اشتراط للغلة لا للمبالغة كذافي محيط السرخسى (عالمگيرى الفصل الثانى فى العروض ج١ ص ١٢٨،ماجديه ج١ ص١٨٠).ظفير

(۴). وغالب الفضة والذهب فضة وذهب (درمختار) اى فتجب زكاتهما لازكوٰة العروض (ردالمحتار باب زكوٰة المال ج٢ ص ۴٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٠٠). ظفير

(١٢٨) **دحج دپاره يې چي څو کاله روپۍ ايښې وې په هغه کې زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال**: يوه ښځه ددوو کالو راهيسې ددوو کسانو دپاره دحج دتګ اودراتګ خرچه جلا کوی او ايږدې يې، سږکال حج ته تلل غواړي، آياپر دې روپو دتيرو کلونو زکاة واجب دی که نه؟

جواب: ددې روپو زکوٰة ورکول واجب دی ترڅو پورې چې دغه روپۍ لګيدلی نه وی تردی وخت پورې دتيرو کلونو زکوٰة ورکول لازم دی. ([1]) فقط

په دوو عبارتونو کی تطبيق: **سوال**: (١٢٩) د (**٥٢**) نيمو روپيو اويا (**٥٢**) نيمی تولو سپينو زرو په مالك کيدو دنصاب خاوند کيږی، اودفتاوٰی رشيديه په دی عبارت کی چی وايي دپنځو سوو نغدو روپو په مالك کيدو سره چی داصلی حاجتونو څخه زياتی وی اويا ددی قيمت برابر مال ولری په دی کی زکوٰة دی، په دی کی تطبيق مطلوب دی؟

جواب: په فتاوٰی رشيديه کی په تقريبی حساب باندی عمل فرمايلی دی درهم چی څلور آنی مقررسی، پنځوس روپی ځينی جوړيږی اوپه بل حساب سره يودرهم دری **٣** ماشی او **١,١\٥** (يو پوره اويوه پنځمه) ارتی کيږی، په دی حساب سره (**٥٢**) تولی کيږی، که چيری درتی کسر پريږدو اودرهم دری ماشی مقررسی نوبيادوه سوه درهمه پنځوس تولی کيږی احتياط په دی کی دی چی پنځوس روپی نصاب وګڼل سی اوزکاة ځينی وايستل سی ([2]). فقط

په ګينه او نغدو ټولوکي زکوٰة واجب دی او دا دی پرمستحقينو خلکو تقسيم سی: **سوال**: (١٧٠) دزکاة په مسئله کی يومولوی صاحب وفرمايل پرکارول کيدونکی مال باندی زکوٰة دی، اوکم چی هغه روپی اوګينی اونور دی چی ښخی سوی دی، اوکله هم نه استعماليږی په هغه باندی زکوٰة نسته، اوماته وايي چی په ټولو مالونو کی زکوٰة دی په استعمال کی راځی اوکه نه راځی، ښخ وی اوکه نه وی، مستحق دې ته محتاج دی، مولوی صاحب ويلی دی چی دمحتاجانو دپاره خصوصيت نسته، بلکی مخکی دده خپل اهل اوعيال اواطفال چی دده پوری متعلق او وابسته وی دکمو چی بل هيڅ ځه آمدنی نه وی دهغوی په پرورش اوتعليم وغيره کی دی ولګول سی او ددوی څخه چی پاته سی نو هغه دی بيا مسکينانو اومحتاجانو ته ورکول سی؟

([1]). الزکوٰة واجبة علی الحرالعاقل البالغ المسلم اذاملك نصابا ملکاتاما وحال عليه الحول (هدايه کتاب الزکوٰة ج١ ص ١٢٧) . ظفير

([2]). نصاب الذهب عشرون مثقالا والفضة مائتا درهم کل عشرة دراهم وزن سبعة مثاقيل والدنانير عشرون قيراطا والدرهم اربعة عشر قيراط والقيراط خمس شعيرات فيکون الدرهم الشرعی سبعين شعيرة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص ٣٨ – ٣٩ ، ج٢ ص ٢٩٥). ظفير

جواب: په دی مسئله کی حقه خبره داده کمه چی ته وایی نغدی روپی او ګینه مطلب دا چی دسرو زرو اودسپینو زرو پرهرشی اوسکه باندی زکوٰة دکال دتیریدو څخه وروسته فرض اولازم دی که څه هم ښځ وی اویاپه استعمال کی نه راځی، ځکه چی په نغدو کی فقهاء وو تقدیری نماء ثابته فرمایلی ده، دکمو چی تفصیل دفقه په کتابونو کی دی (١)، اوتمام دعربی ژبی طالبان ددی څخه خبردی، دومره ډیره غلطی چی دی مولوی صاحب کړیده هیڅ یوطالب العلم به یې ونه کړی، اودزکاة مصارف مسکینان اومحتاجان دی. کما قال الله تعالی: انما الصدقات للفقراء والمساکین الآیه، خپلو بچیانو اوښځی اومور اوپلار ته زکوٰة ورکول ټولو فقهاوو حرام بللی دی اوزکاة په دی سره نه اداء کیږی. فقط

دجنتی کالی دیو عبارت مطلب: **سوال**: (١٧١) دجنتی کالی ددی عبارت څه مطلب دی؟ کله چی فقط سپین زروی اویا فقط سره زروی نووزن ته یې اعتبار دی نه قیمت ته؟

جواب: ددی مطلب دادی چی مثلاً دسپینو زرو په وزن کی دوه سوه درهمه یعنی (٥٢) نیمی تولی دی کم چی دزکاة نصاب دی، لیکن قیمت ته به څنګه اعتبار وی لیکن که چیری دنصاب څخه کم وی یعنی قیمت ددی (٥٢) نیمی روپی نه وی، نو دهمدی دپاره یې وویل چی اعتبار وزن لره دی، زکوٰة واجبیږی (٢). فقط

دسرو زرو زکاة په سپینو زرو سره: **سوال**: (١٧٢) دسروزرو زکاة که چیری دسپینو زرو څخه ورکول سی نوزکاة ورکول درست دی اوکه نه؟ اودسپینو زرو زکوٰة په کمه طریقه ورکول پکار دی؟

جواب: دسرو زور زکوٰة چی دسپینو زروڅخه ورکوی نوقیمت ورکول یې درست اوصحیح دی اوکه چیری دسپینو زرو زکوٰة په سپینو زرو سره ورکوی نو څومره سپین زر چی په زکوٰة کی واجب دی پوره به یې اداء کوی مثلاً که چیری شل تولی سپین زر چی په زکوٰة کی ورکول واجب سوی وی نوکه چیری قیمت یې په زکاة کی ورکوی نوشل به ورکوی نو داچی دشلو تولو قیمت مثلاً که چیری قیمت یې پنځلس روپی وی نو پنځلس ورکړی دا درست اوصحیح کارنه دی (٣). فقط

---

(١). واللازم فی مضروب کل منهما ومعموله ولوتبرًا اوحلیا مطلقا الخ من ذهب اوفضة الخ ربع عشر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص ٤١ – ٤٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٧ و٢٩٨). ظفیر

(٢). والمعتبر وزنهما اداء ووجوبا لا قیمتهما (درمختار) ای من حیث الاداء یعتبر فی الوجوب ان یبلغ وزنهما نصابا نحو حتی لوکان له ابریق ذهب اوفضة وزنه عشرة مثاقیل اومائة درهم وقیمة لصیاغته عشرون اومائتان لم یجب فیه شی اجماعًا، قهستانی الخ لاقیمتهما الخ وهذا ان لم یؤد من خلاف الجنس (ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص ٤٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٧). ظفیر

(٣). والمعتبر وزنهما اداء ووجوبا لاقیمتهما (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ =

كمه ګينه چې ښځې ته دپلار يادخسر له طرف څخه وركول سي نوپه دي كي زكوٰة وركول څنګه دي؟ سوال: (١٧٣\١) دنعيمه دخسر پلار محمد اكرم كم چې دنعيمه هرقسم ضرورتونه دعلي اصغر په ځاى پوره كوى هغه څلور سوه روپى قرضداره دى اودمحمد اكرم سره سالانه دومره څه نه پاته كيږي چې زكوٰة وربا ندى واجب سى، البته دنعيمه سره ددري سوو روپو ګينه سته كمه چې ورته خپل پلار اودخسر پلار وركړيده، نوپه نعيمه باندى زكوٰة واجب دى اوكه نه؟

كمه ګينه چې داستعمال دپاره وركول سوي وي په هغه كي زكوٰة سته اوكه نه؟ سوال: (٢\١٧٤) علي اصغر چې دنعيمه خاوند دى نعيمى ته يې ددوو سوو روپو ګينه وركړه او ورته يېوويل چې دازما ده چې كله مى وغوښتله راكوى به يې دا يوازى دډول او د سينګار لپاره دركوم دنعيمى دپاره داركم ګينه استعمالول جائزدي اوكه نه؟ اوزكاة يې په خاوند علي اصغر باندى واجب دى اوكه په نعيمه باندى؟

جواب: ١: ددى ګينې زكاة پرنعيمه باندى واجب دى كمه چې دنعيمه ملكيت دى.([١]) فقط
٢\: ددى زكوٰة پراصغر علي باندى واجب دى اوددى استعمال دنعيمى دپاره درست او صحيح دى ([٢]). فقط

دهغو ګينو زكوٰة په څه طور سره وركى په كموكى چې ژړ اوغمى جار سوي وي؟ سوال: (١٧٥) زيد دخپلى ښځې دګينې زكوٰة وركول غواړى، خومشكل دادى چې په ځينى ګينه كى ژړ جار سويدى اوپه بعضى ګينه كى غمى جارسوى دى اوچى ژړ اوغمى ځينى ليرى سى نوګينه خرابيږى اوكه دزرګر څخه يې اندازه لګوى نوپوره پته نه ځينى لګيږى كه چيرى سره زر دنصاب څخه كم وى نوددى زكوٰة به دسپينو زرو په شمير وركول كيږى اوكه دسرو زرو زكوٰة به جلا ځينى وركوى اوكه نه دسرو زرو اودسپينو زرو ديوه څخه يې زكوٰة ايستل كيږى؟ اوكه نه دسرو زرو زكوٰة دسرو زرو څخه اودسپينو زرو زكوٰة دسپينوزروڅخه وركول سى اوكه زكوٰة دګينې څخه؟ دكم يوه څخه ايستل كيږى، نو ددى خوبه څه باك نه وى.

= ص ۴٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٧). ظفير

([١]). وسبب افتراضها ملك نصاب حولي تام فارغ عن دين له مطالب من جهة العباد الخ (الدر المختار علي هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ۵ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٧) وفى تبر الذهب والفضة وحليهما واوانيهما الزكوٰة (هدايه باب زكوٰة المال ج١ ص ١٧٧). ظفير

([٢]). الزكوٰة واجبة على الحر العاقل البالغ المسلم اذاملك نصابا ملكا تاما وحال عليه الحول (هدايه كتاب الزكوٰة ج١ ص ١٢٧). ظفير

جواب: صحیح اندازه دی ولگوی، دسرو اودسپینو زرو دگینی زکوٰة ورکول په کاردی مگر اندازه کوونکی ته دی وویل سی چی هرڅومره ممکن وی احتیاط دی په نظر کی ونیسی، مثلاً زیات ترزیات کمه اندازه چی سره اوسپین زرپه دی کی معلوم سی هغومره دی ځینی ورکړی اوپه سرو زرو کی دی په دغسی صورة کی قیمت ورکړی اوپه سپینو زرو کی دی ورشامل کړی اودسپینو زرو څخه دی زکوٰة وباسی، که خوښه یې وی نو ددواړو زکوٰة دی دسرو زرو څخه ورکړی، مطلب داچی دیوشی څخه زکاة ورکول درست اوصحیح دی دسلو دحساب څخه دی دوی نیمی روپی په زکوٰة کی ورکړی، اوکه په زکوٰة کی گینه ورکول غواړی نوهم هیڅ باك نسته (¹).

دخاوند داجازي څخه چي بغیر گینه خرڅه کړي دزکاة داداء کولو دپاره نودا درست کاردی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۷٦) دهندی په ذمه دگینی دبابته دڅوکالو څخه زکوٰة پاته دی دهندی په نزد بغیر ددی څخه بله کمه لاره نسته چی یوڅه گینه خرڅه کړی اوزکاة باندی اداء کړی، اوهیڅ بله څه دآمدنی لاره هم نه لری اویا داچی دهندی خاوند یې اداء کړی، مگر هندی چی کله خپل خاوندته وویل، نوهغه ورته وویل چی دگینی زکوٰة اداء کړه، او د گینی په خرڅولو راضی نه دی، په دغسی صورة کی که هنده دخاوند داجازی بغیر اوبی دهغه درضا څخه یوڅه گینه خرڅه کړی اوزکاة باندی اداء کړی داجائز دی اوکه نه؟

جواب: که چیری داگینه خاوند جوړه کړی وی او ورکړی وی اوهغه یې دښځی په ملکیت کی نه وی ورکړی لکه څنګه چی عرف دی نوددی زکوٰة دخاوند په ذمه دی په ښځه باندی ددی زکوٰة نسته، که چیری خاوندیې زکوٰة نه ورکوی نوګنهګاردی اوښځه نه ګنهګاریږی اوکه چیری دغه گینه ښځی ته په جهیز کی دپلار اودمور دطرفه راغلی وی نوبیا داددی ملکیت دی، ددی څخه دی یوڅه خرڅ کړی اوزکاة دی ځینی اداء کړی اودخاوند اجازې ته ضرورت نسته (²). فقط

دکامداررخت (ټوکر) زکوٰة: **سوال**:(۱۷۷)دهندوستانی ښځوقیمتی جامی زرباف، مشجری،

(¹). ویضم الذهب الی الفضة وعکسه بجامع الثمنية وقالا بالاجزاء الخ (درمختار) قوله یضم الخ عند الاجتماع اما انفراد احدهما فلا تعتبر القيمة اجماعا بدائع لان المعتبر وزنه اداء ووجوبا لامر، وفی البدائع ايضا ان ما ذکر من وجوب الضم اذالم يكن كل واحد منهما نصابا بان كان اقل فلو كان كل منهما نصابا تاما بدون زيادة لا يجب الضم، بل ينبغي أن يؤدي من كل واحد زكاته، فلو ضم حتى يؤدي كله من الذهب أو الفضة فلا بأس به عندنا، ولكن يجب أن يكون التقويم بما هو أنفع للفقراء رواجا، وإلا يؤدي من كل منهما ربع عشره (ردالمحتار باب زکوٰة المال ج۱ ص ۴۵ وص ۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۰۳). ظفیر

(²). الزکوٰة واجبة علی الحرالعاقل البالغ اذاملك نصابا ملکا تاما وحال عليه الحول (هدایه کتاب الزکاة ج۱ ص ۱۲۷). ظفیر

کامداری، بنارسی، پته لرونکو مصالی نه وی په هغوی کی دسپینو زرو تار ضرور وی، په دغسی جاموکی زکوٰة په څه توګه مشخص کیدی سی په هغوی کی ددی خبری اندازه په هیڅ توګه نسی لګول کیدی چی څومره سپین زر پکښی دی؟

جواب: کم زری تارونه چی په بنارسی جاموکی دی دهغه اندازه پخپله ولګوی، یاچی څوك باندی پوهیږی، دهغوی څخه اندازه لګول اوزکاة لګول اوزکاة ورکول په کاردی، اودپتی لرونکی مصالی هم اندازه لګول په کاردی دهغه اندازه اسانه ده. مثلاً مصالی لرونکی به یې تان تول وکړی وبه یې ګوری چی څومره وزن لری، مطلب داچی په داسی ځایونو کی اندازه لګول کافی دی، خواندازه حتٰی الوسع داسی لګول په کاردی چی کمی پکښی رانه سی په کارده چی لږ څه یې زیات حساب کړی. ([1])

خاوند چی ښځه دګینی مالکه کړی نوزکاة پرچا باندی دی؟ سوال: (١٧٨) خاوند دواده څخه څوکاله وروسته دګینی ملکیت خپلی ښځی ته ورکی اوڅلور کاله وروسته زکاة اداء کول یې غوښتل، دملکیت تاریخ ورته یادنه دی، نوڅه وکړی دخاوند اودښځی په مال کی فرق نسته نودزکاة نیت کم یوه ته په کاردی؟

جواب: کله چی خاوند ښځی ته ددی ګینی ملکیت ورکی نوزکاة دښځی په ذمه باندی دی، هغه دی ددی نیت وکړی اوکه چیری خاوند دښځی دطرف څخه دزکاة نیت وکی نو داهم درست اوصحیح ده.

دګینی زکوٰة دکله څخه ورکړی؟ سوال: (١٧٩) زید دزکاة روپی ورکوی اودګینی زکوٰة په دی فکر چی داستعمال ده نه ورکوی، اوس چونکی معلومه سوه چی حقیقت په دی کی دی چی دګینی زکوٰة دی هم ورکول سی زید ته دایاد نه دی چی زه دکله څخه دنصاب مالك یم اودکله څخه یې دزکاة ورکول شروع کړی دی اوډیره اندازه ګینه یې ځینی هم خرڅه کړیده اوروپی ځینی ترلاسه سوی دی، البته ددی زکوٰة یې هم ورکړی دی اویوڅه پاته ده اودسرو اودسپینو زرو نرخونه هم په مختلفه توګه زیات اوکم سویدی او دزید زړه هم ددی شاهدی نه ورکوی چی زه دګینی زکوٰة دکله څخه ورکم، نو په داسی صورة کی زید دګینی زکوٰة دکله څخه اودکم نرخ په اساس ورکړی؟

٢\: دلته رواج داسی دی چی کمه ګینه ناوی ته په واده کی ورکول کیږی اوپه داسی طریقه یې ورکوی چی دهغه څخه هیڅ نه ثابتیږی چی دایې ملکیت دی اوکه نه؟ زید او ښځه یې بی بچیانو مړه سول، صرف دزید پلار او دزید دښځی پلار، ورور، خور، وغیره

([1]). وفی تبر الذهب والفضة وحلیهما واوانیهما الزکوٰة (هدایه باب زکوٰة المال فصل فی الذهب ١ ص ١٧٧). ظ

ژوندی دی نواوس ددی گینی مستحق څوك دی؟ اوزكاة يې دكله څخه وركړی؟

جواب: دگینی زكوٰة وركول هم لازم اوفرض دی دكله څخه چی دگینی مالكه سویده دهم هغه وخت څخه به يې زكوٰة وركوی، اندازه دی ولگوی او داندازی څخه چی څه ورته يادیږی ترهغه چی زيات په حساب كی ونیسی نوښه ده بايد چی كم نه وی اوكمه گینه چی ښځی ته دخاوند دخوا څخه وركول سویده، په دی زمانه كی دعرف مطابق دښځی ملكيت كيږی نه بلكی دخاوند ملكيت كيږی دده دوفات كيدو څخه وروسته دده دښځی او دوالدينو دشرعی حصو مطابق ميراث رسيږی او دښځی چی كمه حصه رسيږی هغه ددی دپلار رسيږی دپلار په موجودتيا كی ورور او خور محروميږی، او زكاة به دهغه وخت څخه وركوی دكم وخت څخه چی گینه تياره سوی وی (١). فقط

په نوټ ماتولو باندی فائده اخيستل څنگه دی؟ اوپه نوټ باندی زكوٰة سته اوكه نه؟ سوال:

(١٨٠) دنوټ په ماتولو باندی فائده اخيستل جائزدی اوكه نه؟ او دچا سره چی نوټونه وی نودكال په تيريدو سره زكوٰة واجبيږی اوكه نه؟

جواب: دلوټ دماتولو په ضرورة فائده وركول كله چی په يوه صورة كی چی پوره روپی ورنه كول سی درست ده كه څه هم په اصل قاعدی سره دگټی اخيستل او وركول درست نه دی ليكن دضرورة او دمجبوری په وجه وركول درست دی، اواخيستل يې درست نه دی (٢)، اوپه نوټونو باندی چی كال تيرسی نوزكاة درباندی لازميږی (٣). فقط

دسرو اودسپينو زرو گينه چی يوځای كړی نونصاب ورڅخه پوره كيږی نوزكاة درباندی راځی اوكه نه؟ سوال: (١٨١) ديوی ښځی سره يوڅه دسرو زرو گينه ده اويوڅه دسپينو زرو مگر دواړه دنصاب څخه كمه ده خو ددواړو په يوځای كولو سره نصاب پوره كيږی نو زكاة به وركوی اوكه نه؟

جواب: په دی صورة كی دقيمت حساب به ولگوی زكاة باندی واجبيږی مثلاً دسرو او دسپينو زرو قيمت به ولگوی اوټوله مجموعه به وگوری چی كه چيری دسپينو زرو نصاب يې پوره كوی نوبيا زكاة باندی لازميږی (٤). فقط

سوال: (١٨٢) زيد په يوه كارخانه كی نوكر دی، دشعبان په لسم، دولسم تاريخ په هر كال

---

(١). وفی تبر الذهب والفضة وحليهما واوانيهما الزكوٰة الخ لنا ان السبب مال نام ودليل النماء موجود وهو الاعداد للتجارة خلقة (هدايه باب زكوٰة المال ج١ ص ١٧٧). ظفير

(٢). الضرورات تبيح المحظورات (الاشباه والنظائر ص ....). ظفير

(٣). شرط افتراض ادائها حولان الحول وهوفی ملكه وتنمية المال كالدراهم والدنانير لعينهما للتجارة باصل الخلقة فتلزم الزكوٰة كيفما امسكهما ولوللنفقة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زكوٰة ج٢ ص ١٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٧). ظفير

کی دوی میاشتی سالانه رخصتی ورلره ورکول کیږی اودی درمضان المبارك دپنځلسم تاریخ څخه صاحب دنصاب سوی دی نوددی دوجه څخه دزکاة فریضه اداء کوی دشعبان او درمضان شریف تنخواه دحاضری یې په شوال کی ورکول کیږی، آیاد **۱۳۳۵** هـ ق درمضان دپنځلسم تاریخ ددغو ورځو اومیاشتو زکوٰة اداء کول واجب دی اوکه د **۱۳۳۲** هـ ق درمضان په میاشتی کی بقاء پکښی شرط ده اوزکاة اداء کړی؟

جواب: دشعبان اودرمضان تنخواه چی تراوسه پوری یې نه ده ورکړی نو دهغه زکوٰة په موجوده رمضان کی ورکول واجب نه دی، دآینده کال ترختمیدو پوری که وصول سوی او باقی پاته سوی نوبیا ددی زکوٰة اداء کول لازم دی (۱).

<u>دسرو زرو نرخ به دبازار دنرخ څخه کیږی</u>: **سوال**: (۱۸۳) زید په کور کی یوه اندازه دسرو زرو ګینه لری دکمی چی مالك زیددی دسرو زرو نرخ دلته یورکم دی اوپه بازار کی بل رکم دی اوګران دی که ښه سره زر هم وی نوبیاهم دبازار دنرخ څخه یې یوثلث کم وایی نودکم نرخ څخه یې زکوٰة اداء او ورکړی ځکه چی دبازار دورکولو نرخ یوډول دی او داخیستلو دا بل دی. که چیری فقیرانو ته سره زر په زکاة کی ورکول سی نوفقیرانو ته سخت نقصان کوی، او بازار والا یې ارزانه ورڅخه اخلی؟

جواب: په بازار کی چی دسروزرو نرخ څنګه وی یعنی دوکاندارېي چی په کم نرخ خرڅوی هم هغه قیمت به ولګوی اوزکاة به یې ورکړی اوکه سره زریې ورکول نو دموجوده سرو زرو څلویښتمه حصه چی ورکړی داهم درسته ده اوزکاة یې اداء کیږی که څه هم فقیران یې په هرنرخ سره خرڅ کړی (۲).

<u>امدنی چی په تدریج سره زیاته سی نوددی زکوٰة به په څه طریقی سره ورکوی</u>: **سوال**: (۱۸۴) یوسړی په ټول کال کی ماهانه د(۱۳۳۵هـ ق) درجب څخه تر (۱۳۳۲هـ ق) تر جمادی الثانی پوری په مختلفه توګه ګټه کوی او وروسته اندازه ورته کوی، کمی روپی چی په مجموعی طور دماهانه روپو څخه بچ کیږی نودزکاة قابلی کیږی اودده په دی

(۴). وتضم قیمة العروض الی الثمنین والذهب الی الفضة ؒ وضم احدی النقدین الی الاخر قیمة مذهب الامام ؒ حتی ان من کان له مائة درهم وخمسة مثاقیل ذهب تبلغ قیمتها مائة درهم فعلیه الزکاة عنده (البحر الرائق ج۲ ص ۲۳۰ ، ط. س. ج۲ ص ۲۳۰). ظفیر

(۱). وشرطه ای شرط افتراض ادائها حولان الحول وهوفی ملکه الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ط. س. ج۲ ص۲۶۷). ظفیر

(۲). وجاز دفع القیمة فی زکوٰة الخ وتعتبر القیمة یوم الوجوب وقالا یوم الاداء الخ ویقوم فی البلد الذی المال فیه (ایضاباب زکوٰة الغنم ج۲ ص ۳۰ ، ط. س. ج۲ ص **۲۸۵**)، واللازم فی مضروب کل منهما الخ ربع عشر (ایضا باب زکوٰة المال ج۲ ص ۴۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۹۷ – ۲۹۸). ظفیر

سرمايه كې اضافه كيږي دكمو چې دي هركال زكوٰة وركوي ايا ددې متفرقه سالانه روپو زكوٰة څنګه وركړي كله چې په شعبان كې لس اوپه رمضان كې شل اوپه شوال كې پنځوس على هذا القياس جمادى الثاني ته چې رسيږي. نودا اوس په رجب كې په كمه طريقه دزكاة حساب وكړي؟

جواب: كه چيرې داسې په (**۱۳۳۵**ه ق) په رجب كې دنصاب خاوندوې چې پنځوس، شپيته يا زياتې نغدې يا ګينه اويا دتجارت مال ورسره وې اوددې څخه وروسته په شعبان، رمضان اوشوال او نورو مياشتو كې نور رقم دبچت ورسره څه جمعه سې مثلا د(**۱۳۳۲**) هـ ترجمادى الثانى پورې ورسره جمع كيدې چې تولې **۵۰۰** ته ورسيدې، نو تراوس وخت پورې دتولو پنځه سوو روپو زكوٰة وركول وربانديې لازم دي اوكه چيرې د (**۱۳۳۵**هـ) په رجب كې ورسره دروپو، ګينې اونور دنصاب په اندازه نه وو، نودكم وخت څخه چې دده سره مال په اندازه دنصاب وو نودهم دغه وخت څخه يې كال شروع كيږي اوپه مينځ دكال كې چې كمې روپۍ دكال ترختميدو پورې جمع سې نودتولو روپو زكوٰة به وركوي، مثلاً په دغه صورة كې چې سوال يې سويدى كه چيرې په (**۱۳۳۵**هـ) كې يوه روپۍ هم ورسره جمع نه سوې اوپه شعبان كې شل جمع سوې اوپه رمضان كې ديرش اوپه شوال كې اتيا روپۍ جمع سوې نوپه دې وخت كې دې دنصاب خاوند سو، ددې څخه وروسته چې نورې تولې جمع سوې، نوپه شوال كې به دتولو روپو زكوٰة وركوي، په دې باره كې ديو عالم څخه زباني پوښتنه وكړى (١).

<u>كمې روپۍ چې قرض واخلي اووې ساتي نوزكاة يې دچاپه ذمه دى؟</u> سوال: (**۱۸۵**) يوسړې دچا څخه دوه څلور سوه روپۍ قرض واخيستې اودځان سره يې وساتلې نوددې روپو زكوٰة به قرض اخيستونكې وركوي اوكه نه قرض وركوونكې؟ يعنې دائن اوكه مديون؟

جواب: ددې روپو زكوٰة دقرض وركوونكې پرذمه باندې لازم دي، كله چې ده ته روپۍ بيرته وركول سي نودتير كال زكوٰة به ځيني وباسي (٢). فقط

<u>دسرو او دسپينو زرو په زكوٰة دكم يوه قيمت ته اعتبار دى؟</u> سوال: (١٨٦) كه چيرې يو سړې دخپلې ګينې په زكوٰة كې دوې تولې سپين زر اويا سره زر وركړي اوزكاة ځيني وكاږي، كه چيرې ددې په عوض كې دسرو اويا دسپينو زرو پرځاى ددې قيمت اداء كړي نوپه

---

(١). والمستفاد ولو بهبة اوارث وسط الحول يضم الى نصاب من جنسه فيزكيه بحول الاصل الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب زكوٰة الغنم ج٢ ص ٢١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨٨). ظفير

(٢). ولوكان الدين على مقر الخ فوصل الى ملكه لزم زكوٰة مامضىٰ (ايضا كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٦). ظفير

دی کی عام نرخ ته اعتباردی په کم چی داسره او یاسپین زر خرخ سویدی، ددی نرخ اعتبار څنګه کیږی؟

جواب: په زکوٰة کی دوی تولی سپین زر زکاة لازم سوی وو، نودوی تولی سپین زر زکاة ایستل اواداء کول وربانذی لازم دی، برابره خبره ده چی دسکی په شکل کی یې ورکوی اوکه په عادی شکل کی یې ورکوی، یعنی دادرسته نه ده چی دسپینو زرو دوو تولو قیمت پاوکم دوی روپی کیږی نوپاوکم دوی روپی ورکړی بلکی پوره دوی روپی ورکول په کاردی اوکمه رتی چی پکښی کمه ده هغه به هم پوره کوی‌دغه رنګه که چیری دسپینو زورو قیمت زیات وو، مثلا دیوی تولی دسپینو زرو قیمت سل روپی دی نودسلو روپو ورکول دده په ذمه باندی لازم نه دی بلکی تبرعًا زیات دی ورکړی دده اختیار دی، اوکه چیری مثلاً دسرو زرو یوه توله زکوٰة لازم وی نودده اختیار دی چی یوه توله سره زر ورکوی اوکه ددی قیمت روپی ورکوی خو دبازار دقیمت دمخی، مثلاً که یوه توله سره زر په بازار کی دیرش روپی وو، نوددیرشو په ورکولو سره زکوٰة اداء کیږی (۱). فقط

دخپلی حصی پوشی چی په زکوٰة کی سړی ته ورکول سی نو ددی څه حکم دی: **سوال**:

(۱۸۷) دزید خور وفات سوه په ترکه کی زیدته هم په ګینه کی څه پاته سوه، اوده دخپلی خور په واجب سوی زکوٰة کی په شرعی توګه خپل مشر ورور بکر ته ورکړه بکر وکتل چی زید پخپله دزکاة مصرف دی اوډیر قرضدار هم دی، دغه ګینه یې خرڅه کړه اودخور دطرف څخه یې دزکاة په نیت زید ته دغه قیمت ورکی په دی صورة کی زکوٰة اداء کیږی اوکه نه؟ شبهه داده چی زید موکل دی اوبکر صرف وکیل دی، او دوکیل فعل عین دموکل فعل وی، نوصورة داسو چی زید ګویا پخپله ځانته زکاة ورکړی دی اوپخپله یې ساتلی دی.

جواب: هغه ګینه چی زید ته دخپلی خور څخه په میراث کی پاته سویده اودده لاس ته ورغلی ده دادزید خپل ملکیت دی اوکله چی دزید وکیل هغه خرڅه کړه او بیایې زیدته ورکړه په دی توګه زکوٰة نه اداء کیږی ځکه چی په دی صورة کی دزید مملوکه روپی دزید سره دی (۲). فقط

---

(۱). والمعتبر وزنهما اداء ووجوبا لا قیمتهما (درمختار) وهذا ان لم يؤد من خلاف الجنس والا اعتبرت القيمة اجماعا كما علمت (ردالمحتار باب زكوٰة المال ج۲ ص ۴۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۹۷) وجاز دفع القيمة في زكاة وعشر وخراج وفطرة ونذر وكفارة غير الاعتاق (درمختار) ثم إن هذا مقيد بغير المثلى، فلا تعتبر القيمة في نصاب كيلي أو وزني، فإذا أدى أربعة مكاييل أو دراهم جيدة عن خمسة رديئة أو زيوف لا يجوز عند علمائنا الثلاثة إلا عن أربعة، وعليه كيل أو درهم آخر خلافا لزفر، وهذا إذا أدى من جنسه. وإلا فالمعتبر هو القيمة اتفاقا لتقوم الجودة في المال الربوي عند المقابلة، بخلاف جنسه. (ردالمحتار باب زكوٰة الغنم ج۲ ۲ص۲۹). ظفير [باقی]

<u>دنغدو او دګینو زکوٰة</u>: سوال: (١٨٨) دزید سره دیونیم سلو روپو په اندازه طلایې اونقره یې ګینه او اووه قیمتی ډبری دیوسلو اوپنځه روپو موجودی دی دا روپی یې په یوځای کی ساتلی دی ګینه کله ناکله استعمالوی، ددی څومره اندازه زکوٰة اوکله، اوڅوك به یې ورسره زکوٰة اداء کوی؟ اودزکاة عمده مصارف څوك دی؟

جواب: زیدسره په دی صورة کی دوه سوه پنځه ویشت روپی دی، نو زید به په زکاة کی دسیکړی په حساب شپږ روپی اوشپږ آنی هرکال وباسی اوکه په کم کال کی کمی اویا زیاتی سی نوپه دغه حساب سره به کمی اویا زیاتی ورکوی په سلو روپو کی به دوی نیمی روپی زکوٰة ورکوی ددی څخه وروسته په ټول کال کی برابره خبره ده چی ګینه وی او که نغدی اویا دتجارت سامان ([1]). اودزکاة مصارف فقیران، مسکینان یتیم ماشومان اوکونډی ښځی اوداسی نور اوپه دوی که چی کم ډیر محتاج اوخپلوان هم وی نودزکاة ورکول ورته لازیات ښه دی اوداسلامی مدرسو مسکینو طالب علمانو ته لیږل یې هم زیات ثواب لری ([2]). فقط

<u>په کمو روپو باندی چی ځای واخیستل سی ایا په هغه باندی زکوٰة واجب دی؟</u> سوال: (١٨٩) یوسړی په پنځه سوه روپی ځای واخیستی دکور والاوو پکښی اوسیدل خوښ نه کړه، ددی وجه څخه یې دخرڅولو اراده وکړه، نوپه دی صورة کی په دغو پنځو سوو روپو کی زکوٰة واجب دی اوکه نه؟

جواب: په دغه پنځو سوو روپو کی زکاة واجب نه دی په کمو یې چی ځای اخیستی وو، ترکم وخت پوری چی دغه روپی موجودی اوځای یې باندی اخیستی نه وی نوزکاة وربا ندی تر هغه وخته پوری لازم دی کله چی یې ځای ورباندی واخیستی دهمدغه وخت څخه یې زکوٰة ساقطیږی ([3]) او کله یې چی ځای په نغدو خرڅ کی ، او نغدی روپی یې تر

([2]). ولایدفع المزکی زکوٰة ماله الی ابیه وجده وان علا ولا الی ولده ولا الی ولد ولده وان سفل لان منافع الاملاك بینهم متصلة فلایتحقق التملیك علی الکمال (هدایه باب من یجوز دفع الصدقات الیه ج١ ص ١٨٨) ویشترط ان یکون الصرف تملیکا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص٨٥ ، ط. س. ج٢ ص٣٤٤). ظفیر

([1]). وشرط افتراض ادائها حولان الحول وهو فی ملکه وتنمیة المال کالدراهم والدنانیر لعینهما للتجارة فتلزم الزکوٰة کیفما امسکهما (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٧) واللازم فی مضروب کل منهما ومعموله ولوتبرا اوحلیا مطلقا الخ ربع عشر (ایضا باب زکوٰة المال ج٢ ص ٤١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٧ و٢٩٨). ظفیر

([2]). ومصرف الزکوٰة الخ وهو فقیر هومن له ادنٰی شیئ ای دون نصاب الخ ومسکین الخ وفی سبیل الله الخ وابن السبیل الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفیر

([3]). ولا یدفع زکوٰة فی ثیاب البدن الخ واثاث المنزل ودور السکنٰی ونحوها (الدرالمختار علی هامش =

لاسه کړی نو دکال دتیریدلو څخه وروسته ورباندی زکات لازمیږی. (١) فقط

کمی روپی چی دمځکی مالک ته په ګروی ورکول سوی وی په هغه کی دزکاة څه حکم دی؟

سوال: (۱۹۰) کمی روپی چی دمځکی مالکانو ته په ګروی ورکول سی دهغه به هرکال زکوٰة ورکوی اوکه دوصول څخه وروسته به یې اداء کوی په دوهم تقدیر سره دتیرو کلونو زکوٰة واجبیږی اوکه نه؟

جواب: په دی روپو کی زکوٰة دپیسو دوصول څخه وروسته واجبیږی اودتیرو کلونو زکوٰة به هم ورکوی. کذا فی الدر المختار (٢). فقط

یوازی دګینهی په وجه زکوٰة واجب دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۹۱) دکمی ښځی سره چی دسلو روپو ګینه وی ترکم وخته پوری چی دمال مالکه وه زکات یې ورکوی اوس هغه غریبه ده مګر ګینه پرخپل جنس موجوده ده، آیا مذکوره ښځی ته زکوٰة ورکول لازمی دی اوکه نه؟

جواب: که چیری ګینه ددی دنصاب په اندازه وه نوددی په ذمه باندی دګینهی زکوٰة ورکول لازم دی، اودیته زکوٰة اخیستل جائزنه دی (٣). فقط

کمی روپی چی دملازمت دضمانت دپاره دسرکار سره جمعه سی په دی باندی زکوٰة سته:

سوال: (۱۹۲) یوسړی دملازمت دضمانت دپاره سل روپی دسرکار سره جمعه کړی ترڅو پوری چی دی ملازم وی دهغه پوری ورته دانه ورکول کیږی کله چی دی تقاعد سی اویا په بله وجه دوظیفی څخه لیری سی نوبیا ورته داورکول کیږی اوس نوپه دی روپو باندی زکوٰة واجب دی اوکه نه؟ که چیری واجب وی نودواپسی څخه وروسته اوکه هرکال ددی زکوٰة اداء کول واجب دی؟

جواب: ددی روپو زکوٰة دواپسی ورکولو څخه وروسته دتیرو ټولو کلونو زکوٰة اداء کول لازم دی اوکه چیری دواپس ورکولو څخه وروسته دډیرو تیروکلونو زکوٰة ورکولو خیال یې وو اوروپی ډیری وی دهرکال دموجودو روپو زکاة ورکړی نوداهم درسته (٤) ده. فقط

دجواهرو په ګینه کی زکوٰة نسته: **سوال**: (۱۹۳) کمه ګینه چی دخالصو جواهرو څخه جوړه

= ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج۲ ص ۱۰). ظفیر

(١). وشرطه ای شرط افتراض ادائها حولان الحول وهوفی ملکه وتنمیة المال کالدراهم والدنانیر لعینهما للتجارة باصل الخلقة فتلزم الزکاة کیفما امسکهما ولوللنفقة (ایضا ج۲ ص ۱۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۷). ظفیر

(٢). ولوکان الدین علی مقر الخ فوصل الی ملکه لزم زکوٰة مامضٰی (ایضا ج۲ ص۱۲ ط. س. ج۲ ص۲۲۲). ظفیر

(٣). واللازم فی مضروب کل منهما ای الذهب والفضة ومعموله ولوتبرا اوحلیا مطلقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج۲ ص ۴۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۹۷ و۲۹۸) . ظفیر

(٤). وکذا الودیعة عند غیر معارفه (درمختار) فلوعند معارفه تجب الزکوٰة (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۲). ظفیر

وی په هغه کی زکوٰة سته اوکه نه؟

دداسی طلایی ګینې زکوٰة چې جواهر ورسره ګډوي: **سوال:** (١٩٤\٢) کمه ګینه چې دطلاء څخه جوړه وی اوجواهرات هم پکښې ګډوی ددی زکوٰة به په کمه طریقه باندی ورکوی؟

جواب: \١: په درمختار کی دی: لانها لا زکوٰة فی اللآلی والجواهر وان ساوت الفا اتفاقا الا ان تکون للتجارة الخ ([1])، نو دجواهراتو ګینې چې دتجارت دپاره نه وی نوپه هغه کی زکوٰة نسته. فقط

\٢: دغه ګینه به قیمت کړی اوزکاة به یې اداء کړی. ([2]) فقط

دهغه ګینې زکوٰة چې په هغه کی یوه حصه سپین زر او دوی حصی جواهرات وی: **سوال:** (١٩٥) کمه ګینه چې یوه حصه یې سپین زروی اودوی حصی یې جواهرات وی نوددی زکوٰة به په کم حساب سره ورکول کیږی؟

جواب: که چیری په زکوٰة کی سپین زر ورکوی نو ددی ګینې دسپینو زرو اندازه به ولګوی هرڅومره سپین زر چې په دی ګینه کی وی دهغه څلویښتمه حصه به ورکوی ([3]).

دسرو او دسپینو زرو قیمت چې معلوم نه وی نوپه دی صورة کی به دزیات قیمت زکوٰة ورکوی اوکه نه؟ **سوال:** (١٩٦) که چیری دسرو او دسپینو زرو قیمت معلوم نه وی، اندازه یې ولګوله ددوو څلورو میاشتو زیاة قیمت یې په ذهن کی ونیوی اوزکاة یې اداء کی نو زکاة یې اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: اصل دادی چې دزکاة داداء کولو په وخت چې څه قیمت وی دهغه به معلومات وکړی اودهغه مطابق به زکوٰة اداء کړی مګر څه رکم چې په دوو څلورو میاشتو کی کوم فرق نه راځی نو ددی وجه څخه داحتیاط طرف به اختیار اوپه نظر کی به ونیول سی په دې طریقه چې زکوٰة اداء کړی نوزکاة یې اداء کیږی ([4]). فقط

دښځی ګینه چې ګرو وی دهغه زکوٰة دچا پرذمه دی؟ **سوال:** (١٩٧) که چیری یوه ښځه خپله ګینه دضرورت په وجه ګروکړی نوددی زکوٰة دښځی پرذمه دی اوکه دخاوند پرذمه؟

جواب: ددی زکوٰة دښځی په ذمه دی ([5]). فقط

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة قبیل باب السائمة ج٢ ص ١٨ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٢. ظ

([2]). و([3]). واللازم فی مضروب کل منهما ومعموله ولو تبرا اوحلیا مطلقا ؏ ربع عشر الخ وغالب الفضة والذهب فضة وذهب وماغلب غشه منهما یقوم ویشترط فیه النیة الا اذاکان یخلص منه مایبلغ نصابا اواقل وعنده ما یتم به الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص ٤٢ – ٤٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٧ و٢٩٨). ظفیر

([4]). وتعتبر القیمة یوم الوجوب وقالا یوم الاداء وفی السوائم یوم الاداء اجماعًا وهو الاصح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج٢ ص ٣٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨٦). ظفیرس

([5]). الزکوٰة واجبة علی حرمسلم عاقل بالغ اذاملك نصابا ملکا تاما (هدایه کتاب الزکوٰة ج١ ص) . ظفیر

دچا په ناڅاپي مرګ چي حکومت يې وارثانو ته روپۍ ورکړي په هغه کې زکوٰة: **سوال**: (۱۹۸) داورګاډي په ټکر کې زيد مړسو، داور ګاډي کمپنۍ دزيد دځان معاوضه دده مور اوپلار، ښځي اونابالغو يتيمانو چي دوې دځلورو اودروکالو انجوني هم پکښي دي اوديو نيم کلن ماشوم دپرورش دپاره ورلره ديرش زره روپۍ ورکړې په دې شرط چي شپاړس زره به په ډاکخانه کې ايږدي او لس کاله وروسته دانجونو په ودولو اودهلك په اعلٰی تعليم کې دي ولګول سي، ترکمه پوري چي دبچو پرورش او دتعليم لګښت دمور په حصه کې دي دمور دحصې شپږ زره روپۍ دحفاظت دپاره په پوسته خانه په دفتر کې کښې ښوول سوي په دې صورة کې دکونډې اوديتيمانو په دې روپو باندي زکاة فرض دي اوکه نه؟

جواب: ترڅو پوري چي ماشوم بچيان نابالغه وي ترهغه پوري ددوی په حصو کې زکاة واجب نه دی لکه چي په درمختار کې دي: وشرط افتراضها عقل وبلوغ الخ قال في الشامي فلاتجب على مجنون وصبي الخ (۱)، اودکونډې اودمور اوپلار چي کمه حصه ده په هغه کې زکوٰة واجب دي، اوبچي چي کله بالغ سي نوددوی په حصو باندي هم دبلوغ دوخت څخه زکوٰة واجبيږي (۲). فقط

په کاروبار چي کمې روپۍ ولګيږي په هغه کې زکوٰة: **سوال**: (۱۹۹) کله چي روپۍ په داسې قسم کاروبار باندي بندي وي چي په هغه کې ورکول اخيستل وي نغدي، سره زر اويا دتجارت دمال په صورة کې اويا ډيره کمه برخه اصل کاروی اويا پوره يوکال هم باندي تيرسي نوزکاة په کم مقدار روپو باندي واجب الاداء کيږي؟

جائيداد اوذاتي اوسيدو ځای چي دضرورت څخه زيات وي په هغه دزکاة څه حکم دي؟

سوال: (۲۰۰\۱۲) کله چي جائيداد اوذاتي اوسيدو ځای دضرورت څخه زيات وي او ددغه ځای څخه کرايه اوآمدني هم وي، نوزکاة دجائيداد په قيمت باندي دي اوکه په کرايه اوآمدني باندي؟

سوال: (۲۰۱\۱۳) که چيري دکرايه پر مځکه باندي جائيداد جوړ سي او ددې حيثيت او يا قيمت تردومره وخته پوري وي ترڅو پوري چي په دې مځکه جائيداد قائم وي نوزکاة يې په کمه طريقه اداء کيږي؟

په سرکاري کاغذونو چي روپۍ لګول سوي وي په هغه کې زکاة: **سوال**: (۲۰۲\۱۴) کمې روپۍ چي په سرکاري کاغذونو اويا په دې قسم نورو کاغذونو باندي لګول سوي وي

---

(۱). ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۲۴ ، ط.س. ج۲ ص...... . ظفير
(۲). وګوری ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۴ ، ط.س. ج۲ ص ۲۵۸. ظفير

دهغه په واپس کولو کی ډیر وخت وی، یاهیڅ میعاد ورباندی نه وی نوزکاة یې په کمه طریقه اداء کی؟

جواب: \١ : دکال په ختمیدو به وکتل سی چی څومره اندازه دتجارة مال اونغدی روپی دی، ددی ټولو به حساب وکی اوزکاة به یې اداکی (١)، اوکمی روپی چی دخلګو په ذمه قرض دی دهغه هم زکوٰة واجب دی مګر اداء کول یې دوصول کیدو څخه وروسته واجبیږی اودتیرو کلونو زکاة ورکول هم دوصول کیدو څخه وروسته لازم دی (٢).

\٢: دجائیداد په قیمت باندی زکوٰة نه لازمیږی، بلکه دکرایی پرهغه آمدنی باندی چی د نصاب اندازی ته اورسیږی نویوازی په همدی اویا نورو موجودو روپو سره یوځای چی کال ورباندی تیر سی لازمیږی (٣). فقط

\٣: ددی جواب هم هغه دی چی په ٢ جواب کی تیرسو، دکرایه آمدنی چی جمعه سی په هغه باندی زکوٰة لازمیږی دهغه شروطو مطابق چی په لمبر دوهم کی دی (٤).

\٤: داسوال تشریح غواړی. فقط

په ډاکخانه کی په جمعه سوو روپو باندی زکوٰة: **سوال**: (٢٠٣\١) کمی روپی چی دری کاله یې په ډاکخانه کی سوی وی نوپه هغه باندی دزکات څه حکم دی؟

بانک ته په قرض ورکړو روپو کی زکات: **سوال**: (٢٠۴\٢) کمی روپۍ چی بانك ته په قرض ورکړل سی په هغه کی دزکات څه حکم دی؟

حکومت چی کمی روپۍ په قرض چاته ورکړی وی دهغه زکات: **سوال**: (٢٠۵\٣) کمی روپۍ چی حکومت یې په قرض ورکړی نو پر هغه دزکات څه حکم دی ؟

دکاروبار والا دروپو زکات: **سوال**: (٢٠٦\۴) کمی روپۍ چی په کاروبار کی لګیدلی وی او په قرض یې ورکړی وی پر هغه باندی دزکاة څه حکم دی؟

جواب، ١ الی ۴ : په دې ټولو صورتونو کی دزکاة حکم دادی چی تر وصول کیدو وروسته دتیرو ټولو کلونو هم زکاة ورکول واجبیږی . (۵)

---

(١). وقیمة العرض للتجارة تضم الی الثمنین لان الکل للتجارة وضعا وجعلا الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص ۴۵ ، ط. س. ج٢ ص ٣٠٣) . ظفیر

(٢). ولوکان الدین علی مقر الخ فوصل الی ملکه لزم زکوٰة مامضٰی (ایضا کتاب الزکاة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٦). ظفیر

(٣). ولازکوٰة فی ثیاب البدن الخ واثاث المنزل ودور السکنٰی ونحوها وکذا الکتب (درمختار) قوله ونحوها ای کثیاب البدن الغیر المحتاج الیها وکالحوانیت والعقارات (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦۴ – ٢٦۵). ظفیر

(۴). فاذا کانت مائتین وحال علیها الحول ففیها خمسة دراهم (هدایه باب زکوٰة المال ج١ ص١٧٦). ظفیر =

هرکال دګینې زکاة: **سوال**: (۲۰۷) په ګینه کی هر کال زکاة ورکول کیږی اوکه نه یو وار؟
جواب: دګینې زکاة هر کال ورکول پکار دی. فقط ([1])

دګینې زکاة: **سوال**: (۲۰۸) زما سره ګینه ده چی ددرو پنځوسو روپو قیمت لری او دا اندازه دکافی اندازې څخه ډیره زیاته ده ، دبازار دقیمت څخه زیات قیمت لګول کیږی پردې باندی دوه کاله تیر سویدی دکمی چی می پنځه روپۍ ورکړی دی او زما سره شپیته روپۍ دی په دې باندی دکال دتیریدلو څخه وروسته زکات راځی اوکه نه ؟ او کمی روپۍ چی قرض دی پر هغو باندی دځانته جلا کال تیریدو ضرورت سته اوکه نه؟
جواب: دګینې زکاة چی پنځه روپۍ ایستل سویدی دا دصحیح اندازې څخه لږ څه زیات دی او دا ډیره ښه خبره ده ، شپیته روپۍ چی نغدی موجودی دی دهغو هم زکاة لازم دی، پردې باندی دعلیحده کال دتیریدو ضروت نسته پرګینه چی کم کلونه تیر سویدی دهم هغه وخت څخه ورباندی زکات لازمیږی ، ([2]) دغه رنګه کمی روپۍ چی قرض دی پرهغو باندی هم دجلا کال دتیریدلو ضرورت نسته مګر ددې زکات دوصول کیدوڅخه وروسته واجب الاداء کیږی اوکه دوصول کیدو څخه یې مخکی زکات ورکړل سی نوداهم ښه خبره ده. ([3]) فقط

په دوه سوه درهمو کی څومره روپی زکوٰة کیږی؟ **سوال**: (۲۰۹) دوه سوه شرعی درهمه (۵۲) نیمی تولی دی چی داداوو په وزن وی نویو شرعی درهم داوو په وزن دری ماشی او نیمه ارته کیږی، اوکه چیری درتی کسر وغورځوی نودری ماشی کیږی، بناء په دی تقدیر چی ځینو حضراتو دغه کسر غورځولی دی اوپنځوس روپی یې نصاب مقرر کړی دی (داحساب په ۱۳۳۲هـ ق کی وو په هغه زمانه کی سپین زر ارزانه وه، اوپه دی زمانه کی سپین زر په دری روپی توله ده. نصاب یوسل اووه پنځوس ۱۵۷ نیمی روپی دی، خلاصه داچی مدار قیمت دسپینو زرو دی چی هرڅو وی. واللہ اعلم ظفیر)

په روپو او ګوتمیو کی زکوٰة سته اوکه نه؟ **سوال**: (۲۱۰) دیو سړی سره دپنځوسو روپو پیسی اودپنځوس روپو ګوتمی دی حال داچی دا دخرڅ دپاره نه دی اوکالورباندی تیر سویدی نوپه دی باندی زکوٰة واجب دی اوکه نه؟

([5]). [ازص۱۲۰] و([1]). [ص هذا] وفي مقربه تجب مطلقا سواء کان ملیئا اومعسرا اومفلسا کذافی الکافي (عالمګیری مصری، کتاب الزکوٰة، باب اول ج۱ ص۱۲۴، ط. س. ج۲ ص ۱۷۳). ولو کان الدین علی مقر ملیٔ ؒ فوصل الي ملکه لزم زکوٰة ما مضٰی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکٰوة ج۲ ص۱۲ ط.س. ج۲ ص۲۶۲). ظفیر
([2]). فاذا کانت مائتین وحال علیها الحول ففیها خمسة دراهم (هدایه باب زکوٰة المال ج۱ ص۱۷۲). ظفیر
([3]). ولوکان الدین علی مقر (الی قوله) فوصل الی ملکه لزم زکوٰة مامضٰی (ایضا کتاب الزکاة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۶۲). ظفیر

جواب: پیسی اوګوتمی چی دتجارت دپاره نه وی نوپر هغه زکوٰة واجب نه دی (که چیری دادنصاب دخاوند سره وی نوپه دی کی بیا دکال په تیریدلو سره زکوٰة ضروری دی. ظفیر)

جائیداد چی قسطوار خرڅ کړی نو زکاة به یې څنګه اداء کیږی؟ سوال: (۲۱) زید خپل څه حق په دی شرط خرڅ کړی چی ددی زر مبادله به په څو دفعاتو سره ورکوی قسطوار زر مبادله او دهغه داداء کولو وخت وټاکل سو، بیع جائزه سوه لیکن چونکی حقیقت دمال داسی دی چی نصاب پکښی نسته، او ددی بدل داسی دی چی په هغه نصاب دی نو په دی صورة کی به زر دثمنِ مقبوله پرطرفینو باندی نصاب کیږی یاپه هغو روپو باندی چی مقرر سوی اوبائع ته لاس ته ورغلی دی، اوکم چی لاس ته ورغلی دی په هغه باندی دکال تیریدل ضروری دی، یا دی دبیع دتاریخ څخه حساب ولګوی او ادا یې کړی؟

جواب: کله چی هرڅومره ثمن لاس ته ورسیږی، له همدی وخت څخه به ددی کال حساب ولګوی وروسته به دټول کال په اوړدو کی زکوٰة واجبیږی اوپه ځینو روایاتو کی داسی دی چی څومره ورته وصول سوی اودنصاب په اندازه وی نوزکاة باندی لازمیږی، اودایې ظاهر الروایت بللی دی اومفتی به یې ګرځولی دی، اوپه ځینو روایاتو کی داول قول تصحیح سویده. وهو الاقیس کذا فی الشامی ([1]). فقط

دڅومره روپو په ګینه کی زکوٰة دی؟ سوال: (۲۱۲) دڅومره روپو ګینه چی که طلایی وی اوکه نقره زکوٰة واجب دی؟ اوپه څومره روپو سړی دنصاب مالك کیږی؟

جواب: دسپینو زرو ګینه چی دوپنځوس نیمی تولی وی اودسرو زرو دا چی اووه نیمی تولی وی نو داسړی دنصاب مالك دی اوزکاة پرده باندی واجب ([2]) دی. فقط

دباؤنډ په صورت اونورو صورتونو کی زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (۲۱۳) دزید سره دخپلو حوائجو څخه علاوه دپس انداز په توګه دومره روپی هم سته په کمو چی زکوٰة ورکول فرض دی، لیکن کله چی زید دغه روپی دبکرسره امانت ایښی دی یازید دنغدو روپو او یا دسرو زرو په ځای روپی اخیستی اودځان سره یې ساتلی دی، یازید په دی روپو باندی باؤنډونه واخیستل چی دقرض دکاغذ یوقسم دی، یایې داروپی چاته بی سوده یاپه سود ورکړی یازید داروپی په بانك کی جمعه کړی او یایې دګتی په امید نوټونه

([1]). فتجب زکاتها اذا تم نصابا وحال علیه الحول لکن لافورا بل عند قبض اربعین درهما من الدین القوی کقرض وبدل مال تجارة الخ (درمختار) والحاصل ان مبنی الاختلاف فی الدین المتوسط علی انه هل یکون مال زکوٰة بعد القبض اوقبله فعلی الاولی لابد من مضی حول بعد قبض انصاب وعلی الثانی ابتداء الحول من وقت البیع الخ (ردالمحتار ج۲ ص ۴۷ ، ط. س. ج۲ ص ۳۰۵، باب زکوٰة المال). ظفیر

([2]). لیس فیما دون مائتی درهم صدقة الخ ولیس فیما دون عشرین مثقالا من ذهب صدقة (هدایه زکوٰة المال ج۱ ص ۱۷۲). ظفیر

واخيستل، يايې په دى روپو داورګاډى كاغذونه واخيستل، يايې داروپى په كم تجارت كى ولګولى، نوپه پورتنيو اتو ٨ صورتونو كى هم زكوٰة واجب الاداء دى اوكه نه؟

جواب: په دى ټولو صورتونو كى زكوٰة واجب الاداء دى، ليكن دقرض وركولو په صورة كى دوصول كولو څخه وروسته دتيرو وختونو زكوٰة هم لازميږى. ولوكان الدين على مقر الخ فوصل الى ملكه لزم زكوٰة ما مضىٰ الخ. درمختار ([1]).

<u>دبل دطرف څخه دزكاة اداء كول</u>: **سوال**: (٢١۴) زيد يوڅه روپى دپلار دخرچى دپاره عمر ته داسى وركړى چى دملازمت په ځاى كى يې هميشه دخرچى په طور زما پلار ته ماهانه وركوه، اوده ته يې ورليږه، عمر هغه ټولى روپى ونه لګولى بلكى كمى يې مصرف كړى او زياتى ورسره پاته سوى حتىٰ چى دا دهغه خپل مقدار څخه زياتى سوى او دا روپى عمر په دى خيال بچ كړى چى دزيد به په كار راسى نوزيدته چى معلومه سوه نوهغه خپل پلار ته وويل: چى اوس تاته ددى روپو زكوٰة وركول په كاردى، عمر وويل چى داروپى ستادى زمانه دى زه دهغه زكوٰة نسم وركولى، سوال دادى چى پر زيد ددى روپو زكوٰة واجب دى اوكه نه؟ اوكه زيد يې اداء كى نوزكاة يې اداء كيږى اوكه نه؟ په تفصيل سره يې بيان كى؟

جواب: زيد چى دماهانه خرچى په طور دخپل پلار دپاره عمرته كمى روپى وركړى اوهغه ته يې وليږلى نوعمر دهغه مالك سو بياچى عمر كمى روپى بچ كړى دى (كه څه هم په دى خيال يې بچ كړى وى چى دزيد په كار به سى) ددى مالك عمردى اوچى دنصاب په اندازه وى اودكال په اوږدو كى ورسره وى نودكال دتيريدلو څخه وروسته ددى زكوٰة پرعمر باندى واجب دى، ليكن كه چيرى زيد دعمر دطرف څخه دعمر په اجازى سره دتيرو او ائنده وختونو زكوٰة اداء كړى نو داكار صحيح اوزكاة يې اداء كيږى زيد كه غواړى چى عمر خبر كړى، چى زه ددى روپو دتير وخت اوداٸنده وخت زكات اداء كوم اوس تاسى ماته اجازه وكړى، وفى الشامى قال فى التتارخانية الا اذا وجد الاذن او اجاز المالكان اى اجاز قبل الدفع الى الفقير الخ. شامى ج٢ ص ١۴.

<u>دزميندارى پرامدنى زكوٰة چى په مختلف طور ترلاسه سى</u>: **سوال**: (٢١۵) زيد يودهقان سړى دى دكښت او دكروندى كاروبار كوى لهذا په دى طريقه يې مثلاً دوه سوه روپى ترلاسه كړى هغه دكال په تيريدو دمال مذكور زكوٰة اداء كى، اوس بيا كال تير نه دى چى نورى روپى يې ترلاسه كړى، اوس ددى خبرى پوښتنه كوى چى په نوى مال باندى دكال

([1]). الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٦. ظفير

دتیریدو سره زکوٰة واجبیږي اوکه نه په راتلونکی کال کی یې ورسره شریکی کړی اوزکاة دتولو څخه اداء کړی، لهذا په مال مستفاد باندی زکوٰة واجب دی اوکه نه؟ اوپه عام مال مستفاد باندی زکوٰة واجب دی اوکه نه په یو خاص مال باندی؟

جواب: کمی روپی چی په کال کی دننه زیاتی سی او دمخکی څخه مثلا دوه سوه موجودی وی په مینځ دکال کی چی ددهقانی په ذریعه کمی روپی حاصلی سی، نوهغه کال معتبر دی چی دادوه سوه روپی پکښی موجودی وی مطلب دا دکم وخت روپی چی مخکی یې کال پوره سی نودټول مال زکوٰة به اداء کړی دمال مستفاد دپاره دنوی کال ضرورت نسته. کما فی الدر المختار: والمستفاد ولو بهبة اوارث وسط الحول یضم الی جنسه ویزکیه بحول الاصل (١). فقط

دجمعه سوو روپو زکوٰة: **سوال**: (٢١٢) یوسړی په اتو کالو کی اته سوه روپی جمعه کړی هرکال یې سل روپی زیاتیدلی اوزکاة یې نه ورکوی صرف نه روپی یې اداء کړی دی، او داتم کال په ختمیدو یې ټولی روپی ختمی کړی اوس په دی صورة کی په کمه طریقه او څومره روپی په زکوٰة کی ورکړی؟

جواب: ددی سوال جواب دادی چی دده په ذمه دتیرو کلونو زکوٰة هم لازم دی اودا فرض دباری تعالی دی کم وخت چی روپی وی په یو یاڅو وارو باندی دی اداء کړی دا به پوره کړی په اول کال، دوهم، دریم، څلورم، پنځم، اووم، اتم، ټولی نوی ٩٠ روپی زکوٰة دده پر ذمه دی ددی څخه به نه ٩ روپی کمی کړی پاته یو اتیا روپی دده پر ذمه دی، نو دده خوښه ده چی که په تدریج سره یې ورکوی اوکه په یو وار یې اداء کوی (٢). فقط

پنځم باب

دتجارت په سامان کی زکوٰة

دپنساری ددوکان زکات ایستل اندازةً درست دی اوکه نه؟ سوال: (٢١٧) زید دپنساری دوکان کوی په دی دوکان کی چونکی په سیکړو سودا ده ددی وجی څخه په اخر دکال کی یې وزن نه کوی بلکی اندازة ورڅخه زکاة اداء کوی، زکاة یې اداء کیږي اوکه نه؟

جواب : په اندازةً کی حتٰی الوسع ددی لحاظ باید وساتل سی ، چی یو څه زیاته اندازه

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج٢ ص ٣١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨٨. ظفیر

(٢). وافتراضها عمری علی التراخی وصححه الباقانی وقیل فوری ای واجب علی الفور وعلیه الفتوٰی، فیاثم بتاخیرها بلاعذر (درمختار) قوله: (عمري) قال في البدائع: وعليه عامة المشايخ، ففي أي وقت أدى يكون مؤديا للواجب ويتعين ذلك الوقت للوجوب، وإذا لم يؤد إلى آخر عمره يتضيق عليه الوجوب، حتى لو لم يؤد حتى مات يأثم (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ٢١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفیر

ولګول سی ترڅو په زکوٰة کی کمی رانسی، ځکه چی په حقیقت کی که چیری اندازه کمه سی نوهمدومره زکوٰة پر ذمه باندی واجب پاته کیږی (١).

دکمپنی په برخو اخیستلو کی چی کمی روپی ولګول سی پرهغه باندی زکوٰة سته اوکه نه یوازی دهغه پرمنافعو باندی زکوٰة دی؟ سوال: (٢١٨) زید په یوه کمپنی کی پنځلس حصی په پنځه زره روپو واخیستی په دی کی چی څه ګټه کیږی کال په کال یې تقسیموی او دحصو خاوندانو ته ورکول کیږی زید ته هم پنځه سوه روپی لاس ته ورځی آیا دزید پر ذمه باندی دپنځه زره روپو زکوٰة ورکول لازم دی اوکه نه پرکلنی ګټه باندی زکوٰة لازمیږی؟

جواب: پرزید باندی په دی روپو کی دپنځه زره روپو زکوٰة ورکول هم لازم اوفرض دی. کذا فی الدر المختار (٢).

که زکوٰة په متفرقه توګه ورکړی نو ددی څه حکم دی؟ سوال: (٢١٩) زید په تجارت څلور زره روپی لګولی دی، اوس دهغه سره پنځه زره روپی دی هغه دزکاة ایستلو داطریقه اختیار کړیده چی روزانه څلور او اته روپی زکوٰة باسی اومسکینانو ته ډیر یا لږ څه ورکوی، دکال په ختمیدو کی چی څه کمی وی هم هغه پوره کوی. داصورة جائزدی اوکه نه؟

جواب: په دی طریقه دزکاة ایستل شرعًا درست دی اودده زکوٰة اداء کیږی (٣). فقط

دقرض په روپو چی تجارت کوی پرهغه زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (٢٢٠) زید یوولس سوه روپی راقرض کړی اوتجارة یې باندی شروع کی، خپله ذاتی سرمایه هیڅ نه لری نوآیا په زید باندی زکوٰة لازم دی؟

جواب: پر ده باندی هیڅ قسم زکوٰة نه واجبیږی او دیوولس سوه څخه زیاتی کمی روپی چی جمع اودنصاب په اندازه وی نوپه دی وخت کی به دزیات مال زکوٰة ورکړی (٤). فقط

دسوداګر سره چی کم مال موجود دی ددی داخیستلودوخت قیمت ته اعتباردی اوکه موجوده

---

(١). الزكوٰة واجبة فی عروض التجارة كالغلة ماكانت اذا بلغت قيمتها نصاب من الورق والذهب (عالمگيرى كتاب الزكوٰة باب ثلث فصل دوم ج١ ص ١٢٨ ماجديه ج١ ص ١٧٩). ظفير

(٢). كالدراهم والدنانير لعينهما للتجارة باصل الخلقة فتلزم الزكوٰة كيفما امسكهما (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج٢ ص ١٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٧). ظفير

(٣). وشرطه صحة ادائها نية مقارنة له اى للاداء ولوكانت المقارنة بعزل ما وجب كله اوبعضه (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٨). ظفير

(٤). فلا زكوٰة على مكاتب الخ ومديون للعبد بقدر دينه فيزكى الزائد ان بلغ نصابا (ايضا كتاب الزكوٰة ج٢ ص ٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٣). ظفير

قیمت ته؟ سوال: (٢٢١) دسوداگر سره مال موجود دی اوس زکوٰة ورکول غواړی، دکال تیریدو څخه وروسته، نو ددی مال داخیستلو قیمت ته اعتباردی اوکه په بازارکی دنن ورځی نرخ ته؟

جواب: دتجارة دمال چی دزکاة داداء کولو په وخت کم قیمت وی ددی قیمت په اعتباربه زکوٰة اداء کړی، برابره خبره ده چی قیمت یې داخیستلو څخه زیات وی اوکه کم وی. ([1])

ددواخانی زکوٰة څنګه اداء کړی؟ سوال: (٢٢٢) زید دیونانی دواخانی دوکان کوی چی په دې کی په زرګونو درملونه دی کم چی دخرڅ پروخت یوه ماشه اودوه ماشې ځینی ایستل کیږی، دکم چی باقاعده حساب ساتل مشکل دی، نوددی دوایی زکوٰة په کم قسم سره ورکول په کاردی؟ که چیری ځانته ځانته تول سی نوډیر وخت نیسی؟

جواب: دزکاة دپاره حساب کول ضروری دی مګر تهوله دوایې جلا جلا وزن کول اوقیمت لګول سخت دی، نوداسی دی وکړی چی دکلنی موجودی دوائې څخه چی څومره خرڅ سی میزان به یې وکړی اودابه دهغه برخې وګرځوی، مطلب داچی اندازه کول داخیستل سوی موجوده مال دضروریاتو څخه دی ([2]). فقط

دتجارة زکوٰة او دهغو روپو زکوٰة په کمو چی مځکه واخیستل سی: سوال: (٢٢٣) کمی روپی چی په تجارة کی لګیدلی وی پرهغه دزکاة څه حکم دی؟ اوکمی روپی چی دمځکی په اخیستلو لګیدلی وی پرهغه باندی زکوٰة واجب دی اوکه نه؟

جواب: کمی روپی چی په تجارت لګیدلی وی اودتجارة سامان باندی اخیستل سوی وی پردی ټولو زکوٰة واجب دی کله چی نصاب ته رسیدلی وی اوکال باندی تیرسوی وی کذا فی عامة کتب الفقه، مځکه اوځای هم که چیری دتجارة دپاره اخیستل سوی وی مثلاً مځکه اوځای چی په کرایه ورکول سوی وی ددی دکرایه پرآمدنی کله چی نصاب ته ورسیږی زکوٰة پرسته ، نور تفصیل یې دفقهی په کتابونو کی دی ([3]). فقط

داوړو دماشین پرقیمت باندی زکوٰة سته اوکه نه؟ سوال: (٢٢٤) یوه سړی داوړو کولو یو ماشین ولګوی نوپر دی باندی زکوٰة سته اوکه نه؟

([1]). وعنده تعتبر قیمة یوم الوجوب وقالا یوم الاداء الخ ویقوم فی البلد الذی المال فیه (درمختار) وفی المحیط یعتبر یوم الاداء بالاجماع وهو الاصح (ردالمحتار باب زکاة الغنم ج٢ ص ٣٠ ط. س. ج٢ ص ٢٨٢). ظفیر

([2]). وفی عرض تجارة قیمة نصاب ؒ من ذهب او فضة مضروبة الخ مقوما باحدهما ؒ ربع عشر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکاة المال ج٢ ص ٤١ - ٤٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٨). ظفیر

([3]). ولا زکوٰة فی مکاتب الخ واثاث المنزل ودور السکنٰی ونحوها (درمختار) ای کثیاب البدن الغیر المحتاج =
= الیها کالحوانیت والعقارات (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٣ و ٢٢٥). ظفیر

جواب: ددی ماشین پرقیمت باندی زکوٰة سته . (1) فقط

پرکتاب باندي په لګول سوو روپيو باندي زکوٰة دي اوکه نه پرموجوده قيمت باندي يې دي؟ اوپه زکوٰة دکتابونو ورکول څنګه دي؟ **سوال**: (١٢٥) دمرقات الصرف کتاب په چاپ کولو ١٣٠ روپی مصرف سوی ګټه یې وسنجول سوه اوقیمت یې ولګول سو هغه هم په څلورو اجزاء وو شپږ روپی، زما دمال حسابی کال ختم سو، زکوٰة به دکتاب داصل مصرف څخه وایستل سی اوکه نه دنفع سره یوځای دټولو روپیو څخه زکوٰة ورکوی، ماته موثق معلومات نسته چی څومره روپی حاصلی سوی او دکله څخه دی، همدا رکم داکتابونه مستحقینو ته په زکوٰة کی ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دمذکوره کتاب په چاپ کولوچی ١٣٠ روپی لګیدلی دکال پرختمیدو دهم دومره اندازه روپیو زکوٰة ورکول لازم دی اوپه زکوٰة کی دغه کتابونه هم ورکولی سی، په کتاب چی څومره روپی لګیدلی اومصرف سوی دی همدا یې قیمت لګول پکار دی.

داخیستونکو پرذمه چي کمي روپي دي پرهغه باندي زکوٰة سته اوکه نه؟ **سوال**: (٢٢٢) تاجران په تجارة کی دکال دتیریدو څخه وروسته دمال حساب کوی کمی دګټی روپی چی زیاتی سی هغه اکثره دخریدارانو پرذمه پاته کیږی په دغه روپیو کی هم زکوٰة سته او که نه؟ که چیری دزکاة روپی علیحده وباسی اودټول مال څخه کله، کله روپی دوی روپی ورکړی او دکال په اوږدوکی یې ځینی وباسی نو زکاة اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: کمی روپی چی په قرض کی دی دهغه زکوٰة واجب دی خو اداء کول یې دقرض دوصول کیدو څخه وروسته لازمیږی. درمختار. اوکه چیری دزکاة روپی دزکاة په نیت علیحده نه سی نوکم وخت چی روپی دوی روپی زکوٰة ورکوی دزکاة دنیت په کولو سره اداء کیږی اوکه نه نو نه اداء کیږی. درمختار (2).

دکم تاجرسره چي نغدي هم وي اومال هم وي اوبقايا په خلکو هم وي نوزکاة به څنګه اداء کوي؟ **سوال**: (٢٢٧) یوه تاجر نغدی لس زره روپی دځان سره ساتلی دی، تقریبا دپنځه زره روپی تیار مال یې ساتلی دی اوپه دی مال کی اکثره وتلی اوتبدیل سوی دی، تقریبًا

(1). دخاکسار په نزد ددغه مشین په قیمت کی زکوٰة نسته. ولو اشتری قدرا من صفر یمسکها ویواجرها لاتجب فیها الزکاة کما لاتجب فی بیوت الغلة کذا فی قاضی خان، وکذالك العطار لواشترٰی القواریر واشتری جوالق لیواجرها من الناس فلا زکوٰة فیها لانه اشتراها للغلة لا للمبالغة کذا فی محیط السرخسی (عالمگیری مصری، فصل ثانی فی العروض ج١ ص ١٢٨ ، ماجدیه ج١ ص ١٨٠). ظفیر

(2). وشرطة صحة ادائها نیة مقارن ای للاداء ولو لکانت المقارنة حکما کما لودفع بلا نیة ثم نوی والمال قائم فی ید الفقیر الخ جاز (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص١۴ ، ط. س. ج٢ ص٢٢٨). ظفیر

ددوه زره روپو مال پر کارخانه باندی لری اوپنځه زره روپی یې پرخلګو باندی بقایا دی کم چی په تدریج سره ورکول کیږی، لهذا شرعًا یوازی په نغدو روپو چی په کور کی ورسره موجودی دی زکوٰة به یې ورکوی اوکه دمال اوبقایا به هم زکوٰة ورکوی؟

جواب: نغدی، دتجارة موجود مال اودده هغه روپی چی دخلګو پرذمه قرض دی دټولو زکوٰة ورکول لازم دی البته کمی روپی چی دخلګو پرذمه دی دهغه به دوصول کیدو څخه وروسته دتیر کال زکوٰة هم ورکوی مثلا که قرض دوه کاله وروسته وصول سو نو ددواړو کلونو زکوٰة ورکول لازم دی البته دوصولو کیدو څخه مخکی که یې زکوٰة ورکړی نوپه دی کی کم باك نسته، په هرحال زکوٰة دټولو لازم دی برابره ده چی نغدی وی اوکه تیار سوی مال وی اوکه نه وی تیار، اوکه دخلګو پرذمه قرض وی اوکم قرض چی دده په ذمه وی هغه به ځینی منفی کړی ([1]). فقط

دقیمت بدلیدونکی مال زکوٰة: **سوال**: (۲۲۸) دکم مال چی قیمت یې بدلیږی رابدلیږی، ډیر وخت یې قیمت داخیستلو څخه هم کمیږی اودمال دخرڅولو یوصورة هم نه وی نوددی زکوٰة څنګه دی؟

جواب: کم وخت چی پوره کال دتجارة پرمال تیرسی نوپه دغه وخت کی چی هرقیمت وو حساب به یې وکړی او څلویښتمه روپی به ځینی زکات ورکړی خوښه یې ده چی که دنغدو څخه یې ورکوی اوکه دموجوده مال څخه یې ورکوی. ([2]) فقط

په تجارت کی چی کمه نفعه اوخرچه وی نودټولو څخه به زکات ورکوی اوکه نه څنګه وکړی؟ **سوال**: (۲۲۹) یوتاجر دزرو روپو څخه تجارت شروع کی دکال په اوږدو کی چی یې حساب وکی، نودده سره دیو نیم زرو روپو مال موجود وو اودکال په اوږدو کی ده، ددی په څنګ څنګ کی ځینی خپل مصارف هم کړی دی نوایا اوس دشریعت دحکم په اساس دټول کال مصارف ځینی وباسی اوزکاة یې ورکی، یا دپوره یونیم زر روپو څخه داینده کال خرچه جلا کړی؟

جواب: اوس درباندی دیونیم زر روپو څخه دزکاة ایستل لازم دی. ([3]) كذا في الدرالمختار

([1]). وشرط ای شرط افتراض ادائها حولان الحول وهوفی ملکه وتنمیة المال الدراهم والدنانیر لعینهما للتجارة باصل الخلقة فتلزم الزکوٰة کیفها امسکهما ولو للنفقة الخ ونیة التجارة فی العروض واما صریحا الخ او دلالة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص۱۳) فلازکاة علی مکاتب الخ ومدیون (ط.س. ج۲ ص ۲۲۷).

([2]). وتعتبر القیمة یوم الوجوب وقالا یوم الاداء اجماعا ویقوم فی البلد الذی المال فیه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج۲ ص ۳۰ ، ط. س. ج۲ ص ۲۸۲). ظفیر

([3]). ومن کان له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول من جنسه ضمه الیه وزکاة به (هدایه کتاب الزکوٰة فصل فی الخیل ج۱ ص ۱۷۵). ظفیر

دتجارتي کمپنۍ برخي يې واخيستي او دحصو قيمتونه په مختلفو وختونو کې مختلف وي نوکم يوه ته اعتبار دی؟ سوال: (١\٢٣٠) يوسړی دتجارتي کمپنۍ برخي واخيستي کله چې کمپنۍ په کار پيل وکی، ديوی حصی قيمت پنځه سوه روپۍ وی، اوکله يې چې اخيستي ديوی حصی قيمت زر روپۍ وی، اواوس پنځه سوه روپۍ دی نودا سړی به دڅومره اندازی څخه زکوٰة ورکوی؟

ديوتاجر روپۍ چې په مختلف نوعيت سره وی نوزکاة څنګه اداء کړی؟ سوال: (٢\٢٣١) يوسړی درخت تجارت کوی دپنځه زره روپو مال دی چې دده سره دی، په دی کې قرض وی، اوپه دی کې دپنځه زره روپو دراتګ توقع يقيني وی، او ددری زرو روپو وصول په شك کې دی اودزرو روپو بالکل اميدنه وی اودا سړی څلور زره روپۍ قرضداره هم دی نوپه دی صورة کې دڅومره اندازی زکاة ورکول پکاردی؟

سرکار چې کم ټکس اخلي هغه په زکاة کې حسابيږی اوکه نه؟ سوال: (٣\٢٣٢) حکومت دتجارة په ګټه اودځايونو په کرايه باندی ټکس اخلي داپه زکوٰة کې حسابيږی اوکه نه؟

جواب: ١\ : کم قيمت چې په اوس وخت کې دی يعنی دپنځه سوه روپو زکوٰة دی ورکړی ([1]).

٢\ : څومره نغدی اومال چې موجوددی دهغه زکوٰة به اوس ورکوی اوکم مال چې په قرض خرڅيږی اوقيمت يې دخلګو په ذمه قرض وی دهغه زکوٰة اداء کول به دوصول کيدو په وخت کې واجب وی څومره چې ورکول کيږی دهم دومره روپو زکوٰة به ورکوی ([2]). او څومره روپۍ چې پرده قرض دی هغه به دموجوده مال څخه منفی کړی او دباقی مال زکوٰة به اداء کړی ([3]).

([1]). وتعتبر القيمة يوم الوجوب وقالا يوم الاداء ويقوم فی البلد الذی المال فيه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج٢ ص ٣٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨٦). ظفير

([2]). ولوکان الدين علی مقر الخ فوصل الی ملکه لزم زکوٰة مامضٰی (الدر المختار علی هامش ردالمحتارکتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٢) فتجب زکاتهما اذاتم نصابا وحال عليه الحول لکن لافورا بل عند قبض اربعين درهمًا من الدين القوی کقرض وبدل مال تجارة فکلما قبض اربعين درهما يلزمه درهم (ايضا زکوٰة المال ج٢ ص ٤٧ – ٤٨ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٥). ظفير

([3]). فلا زکوٰة علی مکاتب الخ ومديون للعبد بقدر دينه فيزکی الزائد ان بلغ نصابا (ايضا کتاب الزکوٰة ج٢ ص ٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٣). ظفير

۳۱: په ټیکس کی چی کمی روپی ورکول کیږی هغه په زکاة کی نه سی حساب کیدی زکوٰة به علیحده ورکول کیږی ([1]). فقط

کمی وریجی چی دتجارت دپاره وی نودهغه څخه به زکاة څنګه باسی؟ **سوال**: (۲۳۲) دیوه سړی سره دکلو کلو راهیسی دتجارة دپاره وریجی وی نوزکاة به یې څنګه باسی؟

جواب: دوریجو قیمت به ولګوی بیا دروپو څخه دی زکاة اداء کړی. فقط

تجار چی خپل ګراک ته مال حواله کړی دهغه زکوٰة: **سوال**: (۲۳۳) اکثره تجاران خپل تجارتی مال خپلو ګراکانو ته حواله کوی اوددی قیمت په کراره ورکوی اودقوی قرینو په اساس همداسی کیږی هم په دی صورة کی هغه معهود قیمت دزکاة په نصاب کی حساب کیږی اوکه نه؟ ځکه چی ډیر وختونه داسی کیږی چی نن تاجرانو ته مال راځی او سباته یې بیا ګراکان دقرض په توګه هغه مالونه لوړوی اووړی یې؟

جواب: ددی مال څخه زکوٰة ایستل واجب دی، مګر دوصول کولو څخه وروسته دزکاة اداء کول واجبیږی اودتیرو وختونو لحاظ به هم پکښی په نظرکی ساتی مثلاً که پس له څو کلونو وصول سوی نودتیرو کلونو زکوٰة اداء کول هم لازم دی. ([2]) فقط

په تجارت کی چی دننه په کال کی په مختلفو وختونو کی چی کمه ګټه وسی آیا دټولو څخه به زکاة ورکوی؟ **سوال**: (۲۳۴) زید یوڅه روپی عمر ته دتجارة دپاره ورکړی عمر په دی روپو تجارة شروع کی، دکال په ختمیدو کی معلومه سوه چی په دی کی ګټه سویده نو داصل مال دزکاة څخه علاوه کمی کمی روپی چی جمعه سوی نوپه دی روپو کی دتیر کال زکوٰة واجبیږی اوکه نه؟

جواب: مسئله داده چی په ګټل سوی مال باندی داصل مال سره یوځای زکوٰة واجب دی، حاصل دادی چی کله نصاب دمخکی څخه موجودوی نوپه دی باندی دکال ترختمیدو پوری چی څه ګټل سوی، ددی زکات ورکول هم لازمیږی، لیکن کمی چی اصلی روپی دی په هغه کی دده برحصه ګټل سوی باندی هم زکاة لازم دی اودعمر چی په محضی ګټه کی برخه ده اواصلی روپی دده سره هیڅ نسته نودده پرذمه به زکوٰة هغه وخت لازمیږی چی کله دده ګټه دنصاب اندازی ته ورسیږی اوکال باندی تیر سی ([3]).

([1]). اخذالبغاة والسلاطين الجائرة زكوٰة الخ لا اعادة على اربابها انه صرف الماخوذ فى محله الاتى ذكره وان لايصرف فيه فعليهم فيما بينهم وبين الله (درمختار) ويظهر لى ان اهل الحرب لوغلبوا على بلدة من بلادنا كذالك لتعليلهم (شامى باب زكوٰة الغنم ج۲ ص ۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۸۸). ظفير

([2]). فتجب زكوٰتها اذاتم نصابا وحال الحول لكن لافوراً بل عند قبضه اربعين درهما من الدين القوى كقرض وبدل مال تجارة فلما قبض اربعين درهما يلزمه درهم (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب زكوٰة المال ج۲ ص ۴۷ – ۴۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۵). ظفير

[باقی]

دکم دوکان چی حساب نه وي سوي دهغه زکوٰة به په څه طور سره اداء کوي: **سوال**: (۲۳۵) زید چی دکله څخه دوکان جوړ کړی تردی وخته پوری یې داسی حساب نه دی کړی چی ددی دوکان دمال صحیح اندازه ځینی ولګیږی نوپه داسی حالت کی دی دزکاة ادا کولو دپاره کم صورة اختیار سی اودتیرو کلونو چی زکوٰة یې نه دی اداء کړی دهغه څه حکم دی؟

جواب: حساب دی وکړی اوزکات دی اداء کړی او دتیرو کلونو زکات دی هم اداء کړی ([۱]). فقط

په نغدو او دتجارة پرمال باندی زکوٰة: **سوال**: (۲۳۲) دعطر فروشی دوکان دی، په زرګونو دواګانی دی، دکور فرش څپلی اونوری دی، که چیری تخمینی اندازه ولګول سی نو د شرع خلاف به وي اوکه څنګه؟ په کم کم مقدار کی قرض باندی دی دچاپه ذمه څلور او دچاپه ذمه اته او دچاپه ذمه پنځه، ډیر خلګ داسی دی چی قرض نه ورکوی، دچا څخه چی دوصول کیدو امید نسته، دغه رکم سل دوه سوه روپی دسلو پنځوسو کسانو پرذمه دی دچا څلور میاشتی کیږی دچا اته اودچا لس، که چیری دکم یوه څخه دوه یادری کاله وروسته وصول سی نودزکاة څه حکم دی؟

جواب: دواګانی اودکور فرش اوسامانونو قیمت به ولګوی، چی په دی وخت کی په بازار کی کم قیمت وی په دی قیمت سره به یې زکوٰة ورکړی ([۲]) اودقرض روپیو زکوٰة به دوصول کیدو څخه وروسته واجب الاداء کیږی، دکال ترآخر پوری چی څومره روپی وصول سوی هغه به دموجوده رقم سره یوځای کړی او دټولو څخه به زکات اداء کړی دغه رکم چی ددی څخه وروسته کمی روپی وصول سی دابه دآئنده حساب سره یوځای کړی ([۳]). فقط

([۳]). والمستفاد ولو بهبة او ارث وسط الحول یضم الی نصاب من جنسه بحول الاصل (درمختار) قوله او ارث ادخل فیه المفاد بشراء او میراث او وصیة وما کان حاصلا من الاصل کالاولاد والربح ⁂ قوله یضم الی نصاب ⁂ واشار الی انه لا بد من بقاء الاصل حتی لو ضاع استانف للمستفاد حولا منذ ملکه (ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج۲ ص ۳۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۸۸). ظفیر

([۱]). وفی عرض تجارة قیمته نصاب الخ من ذهب ومن فضة الخ ربع عشر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج۲ ص ۴۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۹۸). ظفیر

([۲]). وتعتبر القیمة یوم الوجوب وقالا یوم الاداء اجماعا وهو الاصح ویقوم فی البلد الذی المال فیه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج۲ ص ۳۰ ، ط. س. ج۲ ص ۲۸۲). ظفیر

([۳]). ولوکان الدین علی مقر الخ فوصل الی ملکه لزم زکوٰة مامضیٰ (ایضا کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۲). ظفیر

دتجارۃ داسبابو په قیمت کی کم نرخ ته اعتبار دی؟ سوال: (٢٣٧) دتجارت داسبابو دزکوٰۃ په ورکولو کی داخیستلو نرخ ته اعتباردی اوکه په دی وخت کی چی په بازار کی کم نرخ دی هغه ته؟

جواب: دتجارۃ داسبابو په زکوٰۃ کی هغه ته اعتباردی کم چی دبازار دروزمره نرخ سره موافق وی په دی به عمل وسی که چیری داخیستلو دنرخ موافق زکاۃ اداء کړی او دبازار دنرخ څخه زیات واجبیدی نوباقی زکاۃ دده پرذمه باندی پاته سو هغه به اداء کړی (١). فقط

دجائیداد پرقیمت زکوٰۃ نسته، قرض به دزکاۃ داداء کولو په وخت ځینی لیری کیږی ؟ سوال: (٢٣٨) یو سړی ته دقیمتی جائیدادڅخه هرکال پنځوس زره روپی ګټه رسیږی اودتجارت سامان دشلو زرو دی په دی کی دوه نیم دری زره روپی کلنی ګټه وی، اودغه سړی کله دری زره روپی په شپږو میاشتوکی قرض هم اخلی په دی ټولو صورتونو کی دزکات څه حکم دی اودده پر ذمه غوښتونکی مهر هم دی؟

جواب: دتجارت سامان چی دشلو زرو دی پرده باندی دټولو زکاۃ واجب دی. څلویښتمه حصه به ددی څخه دهرکال په اوړدو کی زکوٰۃ ایستل کیږی یعنی په هروسلو روپو کی به دوی نیمی روپی زکوٰۃ ورکول کیږی (٢)، او دجائیداد پر قیمت باندی زکاۃ نسته، (٣) او ددی په ګټه کی چی کمی روپی حاصلی سی، اوکال ورباندی تیرسی زکاۃ به یې ورکړی، اودری څلور زره روپی کمی چی دده پرذمه باندی قرض دی که چیری دکال ترختمیدو پوری دده پرذمه وی، نوهغه به ورڅخه منفی کړی باقی مانده دتجارۃ دسامان نغدو روپو ګینی اونورو زکاۃ به ورکی (٤) اودمهر قرض به نه ځینی منفی کوی هغه دزکاۃ مانع نه

---

(١). وفی عرض تجارۃ قیمة نصاب الخ من ذهب او ورق الخ مقوما باحدهما ان استویا فلو احدهما اروج تعین التقویم به الخ ربع عشر (درمختار) وقدم الشارح عند قوله وجاز دفع القیمة انها تعتبر یوم الوجوب وقالا یوم الاداء کما فی السوائم ویقوم فی البلد الذی المال فیه الخ (ردالمحتار باب زکوٰۃ المال ج٢ ص ٤١ – ٤٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٨ و٢٩٩) . ظفیر

(٢). وفی عرض تجارۃ قیمة نصاب الخ من ذهب اوورق ای فضة مضروبة (فافادان التقویم انما یکون بالمسکوك عملا بالعرف) ربع عشر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰۃ المال ج ٢ ص ٤١ – ٤٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٨ و٢٩٩). ظفیر

(٣). ولازکوٰۃ فی ثیاب البدن الخ واثاث المنزل ودور السکنٰی ونحوها (درمختار کتاب الزکوٰۃ ج٢ ص ١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٤ و٢٦٥) . ظفیر

(٤). ومدیون للعبد بقدر دینه فیزکی الزائد ان بلغ نصابا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج٢ ص ٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٣). ظفیر

دی، کما فی الشامی والصحیح انه غیر مانع (١). یعنی صحیح داده چی دمهر موجل دین مانع نه دی. فقط

دقرض دمنفی کولو څخه وروسته چی دمال څومره قیمت سو دهغه څخه به زکات ورکی اوقیمت به یې په موجوده نرخ سره لګول کیږي: **سوال**: (١٣٩) په تجارت کی که چیری دقرض داداء څخه وروسته مثلاً دزرو روپو دوکانداری ده نو آیا په دی باندی دزرو روپو زکات ورکول واجب دی، لیکن ددوکانداری مال همیشه داسی وی که چیری خرڅوی یې او ددوکانداری دپرینښوولو قصد وکی، نو هیڅکله دیوی روپی مال په یوه روپی نه خرڅیږی، ددی مال قیمت به دزکاة داداء کولو دوخت څخه هم هغه حسابیږی کم چی دهغه اصلی قیمت دموجوده خرید په وخت کی دی، اوکه هغه قیمت حساب کول پکار دی کم چی ددوکان دپرینښولو په وخت ده ته لاس ته ورځی اوپه دی باندی زکات ورکول کیږی؟

دقرض روپو زکات به دوصول کیدو څخه وروسته ورکوی: **سوال**: (٢۴٠٢) مثلا دسلو روپو مال په دوکان کی موجود دی اوپنځه سوه روپی پرنورو کسانو دقرض په طور دی دکمو چی دتولو وصول کیده په یقینی توګه ممکن نه دی، نوآیا ددی سلو روپو زکاة ورکول په کاردی اوکه نه پرپنځه سوه قرض روپو باندی هم زکات ستنه؟

جواب: ١\ : دورکول کیدونکی قرض داداء کولو څخه وروسته که چیری دزرو روپو مال مثلا ورته پاته سوی وو نودکال په ختمیدو به یې زکات ورکول کیږی اودمال قیمت به دموجوده نرخ په حساب قیمت کیږی، زکات به یې دموجوده نرخ په حساب واجبیږی او ددوکان دپرینښوولو په حالت کی چی دمال په قیمت کی کم کمی راځی دهغه به خیال نه ساتی بلکی نرخ به یې په بازار کی دموجوده قیمت په اعتبار سره وی (٢).

٢\ : دسلو روپو زکات دکال په ختمیدوسره فی الحال ورکول لازم دی، اوپنځه سوه روپی قرض چی لاس ته ورځی په دی کی چی هرڅومره ترلاسه کړی دهغه به دتیر کال اوحال دټولو څخه زکاة ورکول لازمیږی مطلب داچی په ترلاسه کیدونکی قرض باندی زکات

(١). ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ تحت قوله اوموجلا ج٢ص ١٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢١). ظفیر

(٢). الزَّكَاةُ وَاجِبَةٌ فِي عُرُوضِ التِّجَارَةِ كَائِنَةً مَا كَانَتْ إِذَا بَلَغَتْ قِيمَتُهَا نِصَابًا مِنْ الْوَرِقِ وَالذَّهَبِ وَتُعْتَبَرُ الْقِيمَةُ عِنْدَ حَوَلَانِ الْحَوْلِ إِذَا كَانَ لَهُ مِائَتَا قَفِيزِ حِنْطَةً لِلتِّجَارَةِ تُسَاوِي مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَتَمَّ الْحَوْلُ ثُمَّ زَادَ السِّعْرُ أَوْ انْتَقَصَ فَإِنْ أَدَّى مِنْ عَيْنِهَا أَدَّى خَمْسَةَ أَقْفِزَةٍ ، وَإِنْ أَدَّى الْقِيمَةَ تُعْتَبَرُ قِيمَتُهَا يَوْمَ الْوُجُوبِ وَعِنْدَهُمَا يَوْمَ الْأَدَاءِ وَكَذَا كُلُّ مَكِيلٍ أَوْ مَوْزُونٍ أَوْ مَعْدُودٍ (عالمگیری کتاب الزکوٰۃ باب ثالث فصل دوهم ج١ ص ١٢٨. ماجدیه ج١ ص ١٧٩). ظفیر

واجب دی، خودزکاة ورکول دقرض دوصول کیدو څخه وروسته لازمیږی اوکه چیری فرض کړی چی دوه کاله وروسته قرض ترلاسه سو نودوصول کیدو څخه وروسته ددوو کالو زکوٰة ورکول لازمیږی (١) اوکمی روپی چی ورته ورنه کول سوی دهغه زکات ساقطیږی (٢). فقط

دمال گټه داصل مال سره یو ځای کیږی: **سوال**: (٢٤١) دکال دپوره کیدو څخه مخکی آیا تجار گټه داصل مال سره یوځای کړی اوزکات ورڅخه وباسی اوکه نه یوازی داصل مال څخه به زکاة ایستل کیږی؟

جواب: په مینځ کی چی هرڅومره منافع وسی نودکال په ختمیدو سره به داصل مال سره یوځای شمار او معتبریږی (٣). فقط

ددوکان دنغدو او دقرضو زکات به څنگه ورکول سی؟ **سوال**: (٢٤٢) دزید یو دوکان دی چی اته زره روپی پکښی دی په دی اتو زرو روپو کی دری زره قرض دی اودپنځو زرو روپو مال په دوکان کی باقی پاته دی زکوٰة اوس په موجوده مال باندی دی اوکه نه په قرض باندی هم زکوٰة واجب دی قرض روپی کال په کال ټولی نه وصول کیږی، کمی کمی روپی وصول کیږی مثلاً شپږ سوه یا اووه سوه روپی وصول کیږی اوبیا دومره وصول کیږی؟

جواب: دقرض روپو زکوٰة ورکول واجب دی او دا هغه وخت چی کله روپی وصول سی او ددی وخت څخه په مخکی زمانه کی یې هم ورکول لازم دی، دهمدی وجه څخه ښه داده چی دقرض سره یوځای دټول مال حساب وکی او دکال په ختمیدو یې زکاة ورکی ترڅو چی څوواره دقرض دوصول کیدو په وخت کی دحساب کول مخ ته رانسی (٤). فقط

دمضاربت دروپو زکوٰة دچا پرذمه دی؟ **سوال**: (٢٤٣) یوسړی بل سړی ته په مضاربت باندی روپی ورکړی هغه دا روپی واخیستی یودوه کاله تجارت یېورباندی وکی، دمال خاوند

---

(١). واماسائر المدیون المقر بها فهی علی ثلاث مراتب الخ قوی وهو ما یجب بدلا عن سلع التجارة اذاقبض اربعین زکی لما مضی (عالمگیری مصری کتاب الزکوٰة باب اول ج١ ص ١٧٤ ، ماجدیه ج١ ص ١٧٣). ظفیر

(٢). ولا (زکوٰة) فی مال مفقود الخ ودین کان جحده المدیون سنین ولابنیة له الخ والاصل فیه حدیث علیؓ لازکوٰة فی مال الضمار وهو ما لایکمن الانتفاع به مع بقاء الملك (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب زکوٰة ج٢ ص ١١ – ١٢ ، ج٢ ص ٢٢٢). ظفیر

(٣). ومن کان له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول من جنسه ضمه الیه وزکاه به (هدایه کتاب الزکاة فصل في الخیل ج١ ص ١٧٥). ظفیر

(٤). واعلم أن الدیون عند الامام ثلاثة: قوي، ومتوسط، وضعیف، فتجب زکاتها إذا تم نصابا وحال الحول، لکن لا فورا بل عند قبض أربعین درهما من الدین القوي کقرض وبدل مالل تجارة فکلما قبض أربعین درهما یلزمه درهم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص ٤٧ - ٤٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٠٥). ظفیر

ته یې ګټه ورنه کړه بلکې دخپل ځان سره وساتې دمال خاوند ددې روپو زکوٰة هم اداء کې، نو دروپو مالك اصل روپې دزکوٰة سره ځینې اخیستلې سې اوکه نه؟

جواب: مضاربت که چیرې صحیح وي نو ددې حکم دادې چې اصل روپې اوکمه اندازه چې ګټل سوې دي نیمايي یا دریمه برخه دهغه دروپو مالك ته ورکول کیږي نوچې په مضاربت کې یې چې کله خیانت وکې اودروپو ورکولو څخه یې انکار وکې نوهغه داصل روپو سره یوځاې دګټې اخیستلو مستحق دي او دزکات هغه روپې چې دوصول کیدو څخه وروسته واجب الاداء وي لیکن که چیرې دروپو مالك دوصول کیدو څخه مخکې دهغه زکوٰة اداء کې نوهغه پکښې حسابیږي، نو دزکوٰة کمې روپې چې مالك اداء کړې دي نوهغه دمضارب څخه نه سې اخیستې، فتجب زکاتها اذا تم نصابا وحال الحول لکن لا فوراً بل عند قبض اربعین درهمًا من الدین القوی کقرض وبدل مال تجارة فکلما قبض اربعین درهمًا یلزمه درهم الخ (١) (درمختار) وفیه لو عجل ذو نصاب زکاته لسنین او لنصب صح، درمختار (٢). فقط

<u>کم ځای چې په کرایه باندې دورکولو دپاره واخیستل سې دهغه په قیمت باندې زکوٰة دي او که نه دهغه په امدنې باندې؟</u> سوال: (٢۴۴) دیوسړي سره داوسیدو دځای څخه علاوه دجائیداد په طور یوځاې دي اودا ځای یې صرف ددې دپاره اخیستې دي چې په دې صورة کې به یې روپې محفوظې وي او دکرایې څخه به یې خرڅه کوي، نوددې ځای به هرکال زکوٰة ورکوي اوکه نه؟ اوکه چیرې ورکوي یې نودقیمت څخه به زکاة ورکوي اوکه دآمدنې څخه به یې ورکوي؟

جواب: په دې صورة کې دځای په قیمت باندې زکوٰة نه واجبیږي بلکې دکرایې روپې که دنصاب په اندازه یا ددې څخه زیاتې جمع سي، اوپه دې باندې کال تیرسي نوددې څخه زکوٰة ورکول لازمیږي (٣). فقط

<u>دتجارت دمال څخه زکات</u>: **سوال**: (٢۴۵) دتجارة مال ګوره ده نوددې زکات به په څه طریقه ورکول کیږي؟

جواب: دګوړې قیمت به ولګوي اوڅلویښتمه برخه به یې په زکوٰة کې ورکړي (۴). اویابه ګوړه په زکاة کې ورکړي.

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص ۴٧ ، ط. س. ج٢ ص ٣٠۵. ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج٢ ص ٣٦ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٣. ظفیر

(٣). فلا زکوٰة علی مکاتب الخ واثاث المنزل ودور السکنٰی ونحوها (درمختار) قوله ونحوها ای کثیاب البدن الغیر المحتاج وکالحوانیت والعقارات (ردالمحتار الزکوٰة ج٢ ص ١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٣ و٢۵٢). ظفیر

قرض دګټې سره یو ځای: **سوال:** (۲۴۶) زید دکېړو تجارت کوی زید بکرته څلور سوه روپۍ ورکړی چې ده ته پکښې په سلو کې دوی روپۍ ورکوی دیوی میاشتې دمودې پوره کیدو سره یې په وعده وفا وکړه او وریې کړې اووی ویل! چې که چیری دوعدې په مطابق روپۍ درکول سې نوښه ده اوکه نه نودمودې پوره کیدو څخه وروسته به په سلو یوه روپۍ ګټه ورکوی بکر هم په دې رضا سو، داجائز دی اوکه نه؟

جواب: داکار جائزنه دی بلکې حرام اوسود دی.

دمضاربت په روپو چې تجارت کیږی دهغه زکوٰة به څنګه اداء کیږی؟ **سوال:** (۲۴۷) دزید روپۍ اودبکر خواری اومشقت سره یوځای سوی اوکاروبار کوی دګټې اوتاوان دواړه ذمه وار دی اوس چې دواړه یوځای سی نوزکات ورکړی اوکه نه څنګه وکړی؟

جواب: ددې روپو زکوٰة دزید په ذمه واجب دی اوبکر ته چې کله دګټې روپۍ دنصاب په اندازه حاصلې سوی اوکال باندی تیرسو نودده په ذمه باندې ددې روپو زکات واجب دی. فقط

ګراکانو ته چې کم مال لیږل سوی او روپۍ یې دکال څخه وروسته لاس ته ورځی ددې زکوٰة څنګه اداء کړی؟ **سوال:** (۲۴۸) کم مال چې ګراکانو ته په ګټې کولو سره ولیږل سې دده روپۍ کله کال بعد اوکله یونیم کال وروسته دده لاس ته ورځی نو ددې مال څخه زکات دګټې سره یوځای وباسی اوکه دګټې څخه بغیر، اوکله کله ګراك کال وروسته هم مال واپس کوی اودده څخه روپۍ وصولول مشکل وی؟

جواب: کم مال چې ګراك ته ورکول کیږی نوددې چې دګټې سره کم قیمت مقرر سوی نو په دې قیمت باندې دوصول کیدو څخه وروسته زکات واجب دی، خومره چې وصول کیږی دهم هغه مال څخه به زکات ورکوی، اوکمې روپۍ چې وصول نسی نو دهغه هیڅ زکاتورباندې لازم نه دی (١). فقط

تاجربه دقرض اونغدو دواړو زکات ورکوی اوکه نه صرف دنغدو؟ **سوال:** (۲۴۹) یوسړی تاجر دی دهغه بعضې روپۍ په قرض کې بندې دی اوڅه ورسره نغدې موجودې دی، نودابه دټولو روپو زکات اداء کوی اوکه نه دهغه اندازې چې دده سره موجودې دی؟

---

(١). واللازم فی مضروب کل منهما (الی قوله) وفی عرض تجارة قیمة نصاب من ذهب اوورق مقوما باحدهما ربع عشر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص ۴۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۹۷ و۲۹۸). ظفیر

(١). فتجب زکاتها اذا تم نصابًا وحال الحول لکن لا فوراً بل عند قبض اربعین درهما من الدین القوی کقرض وبدل مال تجارة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج۲ ص ۴۷ – ۴۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۰۵). ظفیر

جواب: دټولو روپو زکات به اداء کوی لیکن کمی روپی یې چی په قرض کی بندی دی، دهغه زکوٰۃ دوصول کیدو څخه وروسته لازمیږی او دوصول کیدو څخه وروسته دتیرو ورځو زکات هم ورکول لازم دی او واجب دی (١). فقط

دقرض روپی دوه کاله وروسته وصول سوی نودتیرو کلونو زکات یې سته اوکه نه؟ سوال: (٢٥٠) مثلا دقرض دورکولو دوه کاله وروسته روپی وصول سوی نوزکات ددواړو کلونو اداء کی اوکه دیو کال؟

جواب: ددواړو کلونو زکات دی اداء کړی (٢). فقط

کمه میاشت چی زکات اداء کوی نو دهغه څخه یې یوه میاشت مخکی زکات وایستی نوڅه وکړی؟ سوال: (٢٥١) که چیری ټولی روپی په تجارت کی لګیدلی وی اودی سړی زکات په رمضان کی اداء کی، اوروپی دشوال په میاشت کی وصول سوی نودهغه کال زکات اداء کیږی اوکه نه؟ اوکله کیږی؟

جواب: ددی کال زکات به هم اداء کوی اوپه شوال کی چی ورته کمی روپی وصول سوی دی دهغه زکات دوصول کیدو څخه وروسته اداء کول لازم دی، لیکن دتیر کال زکات اداء کول هم لازم دی.

دکال په مینځ کی چی کمی روپی ترلاسه سی دهغه زکات څنګه ورکړی؟ سوال: (٢٥٢) که چیری دکال په مینځ کی روپی وصول سی نو ددی زکات په دی وخت کی ورکول کیږی اوکه نه په رمضان شریف کی؟

جواب: کم وخت کی چی وصول سوی هم هغه وخت دزکات ورکول لازم دی خوکه چیری لومړی اویا وروسته یې ورکړی نوبیا هم درست کاردی، حساب به یې داول څخه لګول کیږی. فقط

دکبنتګر څخه په وصول کیدو کی چی کمی روپی ولګیږی په هغه کی زکات سته اوکه نه؟

سوال: (٣٥٣) دیوکبنت ګر څخه په یوم کولو باندی اویا روپی مصرفیږی او څلویښت روپی په عدالت کی مصرف کیږی، دهغو څلویښتو روپو زکات ورکول سی، اوس دټولو اویا روپو زکات اداء کول دی اوکه دخرچی اومصرف څخه وروسته؟

جواب: دټولو روپو څخه به زکات ورکوی اوخرچه به نه ورڅخه باسی. فقط

* * *

(١). و(٢). ولوکان الدین علی مقر ملی الخ فوصل الی ملکه لزم زکوٰۃ مامضٰی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج٢ ص ١٢، ط. س. ج٢ ص ٢٢٢). ظفیر

شپږم باب عشر

دحاصلاتو زکوٰة

داجاري والا په مځکه کی عشر سته اوکه نه؟ سوال: (۲۵۴) کم سړی چی خپله ذاتی مځکه ونه لری اوده په اجاره مځکه اخیستی اوکرلی وی اودده سره دمځکی مصارف نه دی بلکی په سود یې قرض را اخیستی وی اوپه مځکه یې لګولی وی نوپه داسی صورة کی دده په حاصلاتو کی عشر واجب دی اوکه نه؟

جواب: دصاحبینو دقول مطابق دعشري مځکی عشر داجاره نیونکی پرذمه دی. فی الدر المختار وقال علی المستاجر [1]. اوپه باب العشرکی داهم دی چی: ویجب مع الدین الخ. [2] ددی روایاتو مطابق دحاصلاتو عشر پرده واجب دی. فقط

ایا داجاري اوماشین کرلو والا پرمځکه باندی عشر سته؟ سوال: (۲۵۵) زید دیوی مځکی والا څخه په شل روپی مځکه دکال دکرلو دپاره واخیسته په اجاره، او (۳۵) روپی یې دهغه په ابادولو اوخړوبولو باندی ولګولی حاصلات دسلو روپو دی نوزید به په دی کی دڅومره اندازی زکات ورکوی؟

جواب: په دی صورة کی که مځکه عشري وی نووددی لسمه برخه حاصلات به فقیرانو ته ورکوی هرڅومره چی حاصلات وی مثلا دسلو روپو پیداوار ددی لسمه برخه به ورکوی [3]. فقط

ددهقانی والا په مځکه کی عشر: **سوال**: (۱۵۲) الف خپله مځکه چی بارانی ده عمرته په کرلو ورکړه چی په کرلو باندی چی هرڅومره خرچه وسوه زه به یې اداء کوم، اوحاصلات به په مینځ سره نیمایی ویشو، اجاره هم الف اداء کړیده دپورتنی مځکی ټول پیداوار تقریبًا دوه ویشت منه دغلی حاصل وسوه چی نیمایې یوولس منه الف ته لاس ته ورغله، او په ټوله مزدوری باندی تقریبا یومن لګیدلی وه چی ددی څخه یې علاوه ورکړی وه ګویا چی مجموعه دغلی ۲۳ منه وه، آیاپه الف باندی عشر واجب دی؟ اودټول پیداوار به الف څومره عشر ورکوی دی دمځکی مالك دی اوکه نه هریو به دخپلی خپلی برخی څخه زکات باسی اویا داجاري والا دمځکی په وجه عشر ساقطیږی؟

جواب: په عشري مځکه کی چی په دهقانی ورکول سی لکه چی په مسئوله صورة کی چی

---

[1]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة باب العشر ج۲ ص ۷۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۴. ظفیر

[2]. ایضا ج۲ ص ۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۲. ظفیر

[3]. وکذا یجب العشر فی مسقی سماء سیح کنهر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص ۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۲). ظفیر

دی نوعشر پردهقانی ورکوونکی باندی دخپلی خپلی برخی په اندازه سره واجبیږی ([1]).
اویومن چی په مزدوری کی لګول سوی دی دهغه عشر پردواړو باندی واجب دی او علماوو داهم وئیلی دی چی کمه مځکه چی خراجی وی په هغه کی عشرنه واجبیږی. فقط

پر مځکی والا باندی عشر سته اوکه نه؟ سوال: (٢٥٧) په هندوستان کی چی کم خلګ دمځکو خاوندان دی هغوی پخپله مځکه نه کری په خپلو لاسونو باندی یې خلګو ته دکرلو دپاره ورکوی، مځکی والا ته چی کمی روپی په لاس ورځی ددی څخه دمال مصارف اودحکومت مالیه ایستل کیږی پاتی نور مځکی والا یې په خپله مصرف کی راولی، نوپه داسی مځکو والاوو باندی دمال دمصارفو ایستلو څخه وروسته هم کم شرعی حق خراج اونور اداء کول لازم دی اوکه نه؟

په باغ کی عشر سته اوکه نه؟ سوال: (٢٥٨) دغه رکم دکمو خلګو چی دځان دپاره دامونو او دنورو میوو باغ وی په هغه کی هم کم شرعی حق اداء کی ددی صراحت وکړی؟

جواب: ١: دکمو مځکو چی خراج یعنی سرکاری محصول ورکول کیږی په هغه کی لسمه حصه ورکول ضروری نه دی اوکه چیری وریې کړه نوښه خبره ده ددی تفصیل دادی چی په نورو باندی دکرلو دوه صورته دی، یودا چی په نغدو روپو یې په اجاره باندی ورکی، دوهم داچی په نیمایې حاصل باندی یې ورکی دوهم صورت یې دادی چی که چیری تخم ددهقان وو، نوهریو مځکه والا اودهقان دواړه به دخپلی، خپلی برخی څخه لسمه حصه ورکوی، په اول صورة کی اجوره په اجاره نیوونکی ده اودا قول دصاحبینو دی اوپه دی باندی په درمختار کی فتوی رانقل سویده. والعشر على الموجر كخراج موظف وقال على المستاجر كمستعير مسلم وفى الحاوى وبقولهما ناخذ وفى المزارعة ان كان البذر من رب الارض فعليه ولومن العامل فعليهما بالحصة ([2]) (الدرالمختار) وفى الشامى قوله ارض غير الخراج اشار الى ان المانع من

([1]). وفی المزارعة كان البذر من رب الارض فعليه ولومن العامل فعليهما بالحصة (درمختار) والحاصل ان العشر عند الامام على رب الارض مطلقا وعندهما كذالك لو البذر منه ولومن العامل فعليهما وبه ظهر أن ما ذكره الشارح هو قولهما اقتصر عليه لما علمت من أن الفتوى على قولهما بصحة المزارعة، لكن ما ذكر من التفصيل يخالفه ما في البحر و المجتبى وغيرهما من أن العشر على رب الارض عنده عليهما عندهما من غير ذكر هذا التفصيل وهو الظاهر، لما في البدائع من أن المزارعة جائزة عندهما، والعشر يجب في الخارج، والخارج بينهما فيجب العشر عليهما (ردالمحتار باب العشر ج٢ ص٧٥ – ٧٦ ، ط. س. ج٢ ص٣٣٥). ظفير

([2]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٧٤ – ٧٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٤). ظفير

وجوبه کون الارض خراجیة لانه لایجتمع العشر والخراج [1] الخ ج۲ ص ۴۹ باب العشر.

۲۱: په دی کی هم هغه حکم دی چی په اول کی تیرسو اوکه چیری یې په مځکه کی سرکاری محصول ورکوی، نوپه باغ کی په میوه اوګلانو کی عشر نسته [2]. فقط

حکومت چی کم محصول اخلی هغه دعشر اویا دخراج په درجه کی دی اوکه نه؟ سوال:

(۲۵۹) دهندوستان زراعتی مځکی چی دانګریزانو حکومت دی عشری دی اوکه خراجی؟ په دواړه تقدیرونو کی کله چی دحکومت اجاره اداء کړی نوعشر وربانذی فرض دی اوکه خراج اوکه هیڅ یوهم نه؟ دوجوب په صورة کی کمو مځکو ته چی سرکار ورته نهرونه ایستلی دی اوپه هغه باندی اوبه کیږی اواوبه خور یې په روپو باندی کیدی په داسی مځکه کی به عشر ورکوی اوکه نصف عشر؟ او دوجوب په صورة کی آیا داسی کیدی سی چی دحکومت اجاره ځینی وباسی اوپه پاته نوروکی عشر فرض سی؟ او د بهاولپور ریاست دمځکو حکم چی حکمران یې مسلمان دی، دا مستفسره امور چی ذکر سول په دی کی حکم یو دی اوکه متفاوت؟

جواب: دشامی په عبارت کی داتصریح ده چی دهندوستان په مځکو کی عشر اوخراج هیڅ نسته، هغه نه عشری ده اونه خراجی، لهذا کم محصول چی حکومت اخلی هغه ته خراج نه ویل کیږی دشامی عبارت دادی، فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر الخ باب الرکاز [3]. خوعشر واجبیږی دلته دټولو حاصلاتو لسمه برخه واجب ده هیڅ به نه ځینی کمیږی اوپه کمو مځکو کی چی داوبو محصول ورکول کیږی په هغه باندی هم عشر دی او په ریاست اسلامی کی به عشر ورکول کیږی.

دهندوستان په باغونو کی عشر نسته: سوال: (۲۲۰) دآم په باغونو کی بالکل خام اوکچه آمونه راشکول کیږی په چکنی اونورو کی یې استعمالوی نودعشر اندازه پکښی څومره ده، اوپه کمه طریقه یې اداء کړی؟ اوکه نه نسته پکښی.

---

[1]. وګوری ردالمحتار باب العشر ج۲ ص ۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۵. ظفیر

[2]. په ظاهر کی دلیل هم هغه دی کم چی مجیب علام ورکړی اوپه اوله مسئله کی یې نقل کی، (قوله ارض غیر الخ اشار الی ان المانع من وجوبه کون الارض خراجیة لانه لایجتمع العشر والخراج (ردالمحتار ج۲ ص ۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۵) مګر دخاکسار په خیال کی دا دلیل درست نه دی ددی وجه څخه صرف دسرکار دمحصول په اخیستو سره دامحصول ځکه خراجی کولی نه سی لکه څنګه چی مجیب علام په تیر جواب کی پخپله صاف ذکر کړل سرکار چی کم محصول اخلی هغه ته خراج نه سی ویل کیدی، نو معلومه سوه چی داجواب دهندوستان تر موجوده پوزیشن لاندی سوی چی دامځکه چی په دارالحرب کی ده نه عشری ده اونه خراجی لهذا په دی حواله کی یې چی کم عبارت نقل کړی هغه غالبًا تسامح ده. والله اعلم. ظفیر

[3]. ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص ۲۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۱۹. ظفیر

جواب: دفقه درواياتو څخه معلوميږي چي دهندوستان په مځکو اوباغونو کی عشر نسته. فقط (ځکه چي داهيواد دار الحرب دی اوددار الحرب مځکه نه عشري وي اونه خراجي. فان ارضها ليست ارض خراج وعشر. ظفير)

دهندوستان دمځکو په باب دوضاحت طلب: **سوال**: (۲۲۱) تاسی په (۲۲۰) لمبر استفسار کی (کم چي لوړ ذکر سو) په ليکلی توګه فرمائيلی دی چي دفقه دروايت څخه معلومه سويده چي دهندوستان په مځکو اوباغونو کی عشر نسته په دی کی شبهه داده چي په الامداد کی په شعبان کی ليکل سوی وه چي په حاصلاتو کی دکمو څخه چي آمدنی حاصلول مقصود اومطلوب وي عشر واجبيږي نو په فصل اوباغ دواړو کی عشر واجب دی، دغه قسم جواب دحضرت مولانا رشيد احمد قدس سره، څخه هم منقول دی په دی صورة کی څه حکم دی؟

جواب: په دی باره کی مخکی هم بی له شکه احقر داسی ليکلی وو، لکه چي تاسی دهغه نقل وفرمايی اوپه الامداد اونورو کی هم دغه مضمون موجود دی اوس څه وخت کيږي چي دشامي په جلد ثاني باب الرکاز کی داعبارت په نظر راغی کم چي لاندی ليکل سوی دی اودکم چي حاصل دادی چي ددار الحرب مځکی نه عشري دی اونه خراجي دامسئله دفقهاوو په نزد منل سوی معلومه اومتفق عليه ده، ددی عبارت دليدلو څخه وروسته ددی اصل معلوم سوکم چي قاضي ثناء الله پانی پتی قدس سره په ما لا بد منه کی دهغه ليکل فرمائيلی دی چي دعشر مسئلی په کتاب کی ددی وجی نه دی ليکل سوی چي دلته مځکی عشري نه دی په مځکوکی عشر نسته، اوکما قال، مطلب داچي دشامي دتشريح څخه وروسته او دقاضي صاحب تحقيق می ترنظر لاندی ساتلی اوس احقر په دی ويلو پسی لګيدلی دی چي دهندوستان مځکی عشري نه دی ددی سره هم داحتياط له مخی عشردی وايستل سی عبارت داسی دی.

قال في فتح القدير: قيد بالخراجية والعشرية ليخرج الدار فإنه لا شيء فيها ، لكن ورد عليه الارض التي لا وظيفة فيها كالمفازة ، إذ يقتضي أنه لا شيء في المأخوذ منها وليس كذلك ، فالصواب أن لا يجعل ذلك لقصد الاحتراز بل للتنصيص على أن وظيفتها المستمرة لا تمنع الاخذ مما يوجد فيها (الى ان قال) وأقول: يمكن الجواب بأن المراد بالعشرية والخراجية ما تكون وظيفتها العشر أو الخراج سواء كانت بيد أحد أو لا، فشمل المفازة وغيرها بدليل ما قدمناه عن الخانية من أن أرض الجبل عشرية، فيكون المراد الاحتراز بها عن دار الحرب، ويدل عليه أنه في متن درر البحار عبر بمعدن غير الحرب، فعلم أن المراد معدن أرضنا، ولهذا قال القهستاني بعد

قوله في أرض خراج أو عشر الاخصر في أرضنا سواء كانت جبلا أو سهلا مواتا أو ملكا، واحترز به عن داره وأرضه وأرض الحرب اهـ. ثم رأيت عين ما قلته في شرح الشيخ إسماعيل حيث قال: ويحتمل أن يكون احترازا عما وجد في دار الحرب، فإن أرضها ليست أرض خراج أو عشر، ([1]) الخ .

ددی عبارت څخه معلومه سوه چی ددار الحرب مځکی نه عشری ده اونه خراجی ده ددی وجه څخه دفقهاء دتصریح په وجه دهندوستان دمځکو څخه یې دعشر نفی ولیکله ددی خلاف می تراوسه پوری هیڅ چیری هم لیدلی نه دی چی دحرب په مځکوکی دی دعشر تصریح سوی وی، لهذا اول چی کمه فتوٰی ورکول سوی وه دغه دوجوب دعامو قواعدو په اساس ورکول سوی وه اوس هغه پرینبوول سوه. فقط

<u>کمه مځکه چی دغرونو په اوبو دزحمت او دکوشش څخه وروسته اوبه سی په هغه نصف عشردی که عشر؟</u> سوال: (٢٢٢) یوقطعه مځکه چی دغره په اوبو خړوبیږی مګرپه محنت او مشقت سره ورته بند تړل کیږی اوبیا اوبه کیږی نوشرعًا باندی عشر واجبیږی اوکه نصف عشر؟

جواب: په شامی باب الرکاز کی دی. واحترز به عن داره وارضه وارض الحرب آهـ ثم رایت عین ماقلته فی شرح الشیخ اسمٰعیل حیث قال ویحتمل ان یکون احترازا عما وجد فی دار الحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر ([2])، ددی عبارت څخه واضحه سوه چی دهندوستان مځکه نه عشری ده اونه خراجی، اوکه چیری په دی صورة کی په دار الاسلام کی وی نوپه مذکوره صورة کیورباندی عشر لازمیږی ځکه چی دآسمان او دسیلاب په اوبو چی خړوبه سی نوپه هغه کی عشر واجبیږی. کذا فی الدر المختار ([3]). فقط

<u>زمیندار خوک دی او دعشر په باب تفصیل ورکړی؟</u> سوال: (٢٢٣) زمیندار هغه خوك وی چی حاکم وخت ته خراج ورکوی اوکه نه بل خوك؟ اوخوك چی یې دده څخه په مزدوری ونیسی هغه مستاجردی اوکه نه؟ زمیندار پخپله مالك دی اوکه دحکومت څخه په اجاره نیوونکی دی؟ په عشر کی ملکیت شرط دی اوکه نه؟ په مستاجره اودهقان باندی دعشر دواجبیدو دپاره دمځکی عشریتوب شرط دی اوکه نه؟

([1]). ردالمحتار باب الرکاز ج٢ ص ٢١ ، ط. س. ج٢ ص ٣١٩. ظفیر
([2]). ردالمحتار باب الرکاز ج٢ ص ٢١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٠. ظفیر
([3]). وتجب فی مسقی سماء ای مطر وسیح کنهر بلاشرط نصاب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٢). ظفیر

جواب: زمیندار هغه څوك دی چی سرکار ته خراج ورکوی اودمځکی مالك زمینداردی او دعشر دپاره ملك شرط دی لیکن ددهقانی اوداجاری په صورة کی دصاحبینو مذهب کم چی مفتی به دی دادی، چی په دهقانی کی دمځکی پرخاوند اودهقان دواړو باندی دخپلی خپلی حصی لسمه برخه واجب ده اوداجاری په صورة کی دصاحبینو په نزد پر مستاجر باندی عشر واجب دی، امام صاحب فرمائیلی دی چی په اجاره ورکوونکی باندی عشر واجب دی، بعضو فقهاء وو دامام صاحب پرقول باندی فتوٰی ورکړیده لیکن په دی زمانه کی دصاحبینو پرمذهب باندی فتوٰی ورکول حق ته نژدی دی، په درمختار کی دحاوی څخه منقول دی چی: وبقولهما ناخذ وفی المزارعة ان کان البذر من رب الارض فعلیه ولو من العامل فعلیهما بالحصة الخ (۱). فقط والله تعالیٰ اعلم.

دهندوستان په مځکو کی عشر احتیاطاً ورکول په کاردی: **سوال**: (۲۲۴\۱) دهندوستان مځکه عشری ده اوکه خراجی ده اوپه عشر کی زکات واجب دی اوکه نه؟ کم زمینداران چی فصل کری اودمځکو اجاره یا مالیه حکومت ته ورکوی اوڅومره چی ددوی خوښه وی خپل فصل ساتی، اوکمی مځکی چی یې پخپله کرلی دی دهغه په حاصل کی زکات واجب دی اوکه نه؟ زکات دغلی دانی او دتجارت دمال څخه ایستل کیږی په هغه کی دکال قید سته اوکه دغلی پرتیاریدو باندی زکات لازمیږی؟ اوزکات به دټولی غلی دانی څخه ورکوی اوکه مصارف اوخرچه به ځینی باسی ؟

په چاچی قرض وی عشر وربأندی واجب دی: **سوال**: (۲۲۵\۲) یوسړی قرض داردی کمی روپی یې چی دمصارفو څخه بچ کړی دی په هغه یې قرض اداء کی، مګر په کور کی یې چی کم دفصل غله ده ددی غلی دانی څخه یې زکات ایستلی دی، آیا دادرست کاردی اوکه نه؟

جواب: ۱\: په ردالمحتار باب الرکاز کی داتصریح سویده، چی دهندوستان په شان هیڅ مځکه نه عشری ده اونه خراجی ده بناء پردی کم محصول چی حکومت اخلی هغه ته خراج نه ویل کیږی اوکله چی هیڅ مځکه په هندوستان کی عشری نه ده نوعشر هم نه واجبیږی (۲) لیکن داحتیاط دمخی که مسلمان دخپلی مځکی عشر ورکړی دابه ښه وی یعنی لسمه حصه دحاصل چی په کم ځای کی واجب ده هغه په ټول پیداوار باندی واجب ده، اوکم وخت چی غله وسی په هم هغه وخت عشر واجبیږی، دکال قید په دی کی نسته

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص ۷۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۴. ظفیر

(۲). ویحتمل ان یکون احترازا عما وجد فی دار الحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر (ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص ۲۱ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۰). ظفیر

او دتجارت په مال کی دکال په تیریدو باندی لازمیږی اوعشری مځکه چی په دهقانی ورکول سی نودهغه په حاصل کی دصاحبینو په نزد دخپلی، خپلی حصی په مطابق پر هر یوه یعنی دهقان اودمځکی په مالك باندی عشر لازمیږی اوداجاری په صورة کی دامام صاحب په نزد پراجاره ورکوونکی اودصاحبینو په نزد پراجاره نیونکی باندی عشر لازمیږی ([1]).

(٢): په درمختار باب العشر کی دی. ویجب مع الدین ([2]). یعنی عشر دقرض باوجود هم لازمیږی نو په کم ځای کی چی عشر لازمیږی هلته دوجوب دعشر دپاره قرض مانع نه گرځی، اوپه کم ځای کی چی عشر واجب نه وی هلته هم په ورکولو دعشر کی هیڅ باك نسته. کما هو ظاهر. فقط

په دهقانی کی چی کمه غله دانه ترلاسه سی آیا په هغه کی عشر سته چی مالیه یې حکومت ته ورکول کیږی؟ **سوال**: (٢٢٢) دکرلو شیان لکه وربشی، غنم، ایږدن، شړشم، اوداسی نورو زکات ولی ورکول کیږی دکرل سوی مځکی خزانه دمځکی والاته ورکول کیږی او په حاصل کی یې دعشر یا دزکوٰة ورکولو څه طریقه ده؟

جواب: دلسمی حصی اوشلمی حصی ورکولو ته عشر اونصف عشر ویل کیږی اودکمی مځکی محصول چی حکومت اخلی په هغه کی عشر اونصف عشر نسته ([3]). (منشاء یې داده چی هندوستان دار الحرب دی، ددی وجه څخه عشر نسته، دا مطلب نه چی دحکومت دمحصول په وجه عشر نسته اویا داچی سرکاری محصول دی دعشر قائم مقام وی. ظفیر)

آیا دحاصلاتو څخه څلویښتمه حصه ایستل کیږی؟ **سوال**: (٢٢٧) که چیری کمه مځکه دغیر مذهب والا وی یعنی دهندو وی دهغه څخه وروسته ورباندی کم نصرانی قبضه وکړی نو دهغه څلویښتمه حصه به ځینی زکات باسی آیا داخبره صحیح ده اوکه غلطه ؟

جواب: دمځکی په حاصلاتوکی دمځکی پرمالك باندی لسمه یا شلمه حصه راځی، دڅلویښتمی حصې ورکولو حکم دمځکی په حاصلاتوکی نسته ([4]) دغسی دنفلی صدقی

([1]). والعشر علی الموجر کخراج موظف وقالا علی المستاجر کمستعیر وفی الحاوی وبقولهما ناخذ وفی المزارعة ان کان البذر من رب الارض فعلیه ولومن العامل فعلیهما بالحصة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٧۴ وص٧۵ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣۴). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٢. ظفیر

([3]). ویحتمل ان یکون احترازا عما وجدفی دار الحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر (ردالمحتار باب الرکاز ج٢ ص ٢١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٠). ظفیر

([4]). یجب العشر الخ فی مسقی سماء ای مطر وسیح الخ ویجب نصفه فی مسقی غرب الخ ودالیة الخ (الدر =

په طریقه چی څه ورکړی ورکولی یې سی مګر فرض نه دی. فقط

معاف سوی مځکه عشري وي اوکه نه؟ اودعشر څه طریقه ده؟ سوال: (٢٢٨) دزید په قبضه کی یوڅه معاف سوی مځکه ده، داعشری ده اوکه نه ده؟ زید که ذکر سوی مځکه پخپله وکری نوپرده باندی بې له لحاظه دنصاب دمالك کیدو که چیری زکات وربا ندی واجب دی نوڅومره اندازه؟ اوکه زید دغه مځکه چاته په اجاره اویاپه نیم کاره ورکړی نوزکات به هم ورکوی اوکه نه؟ اوکه چیری ورکوی نوڅومره اندازه به ورکوی؟ اویوبه یې ورکوی اوکه دواړه؟

جواب: دشامی باب الرکاز څخه دامعلومیږی چی دهندوستان په شان مځکی نه عشری دی اونه خراجی، اواحتیاط په دی کی دی چی په پیداوار اوحاصل کی یې عشر ورکړی یعنی که پخپله یې کرلی وی نودټول پیداوار څخه به عشر ورکوی اوکه چاته یې په دهقانی یعنی نیم کاره باندی ورکړی وی نوهریوبه دخپلی حصی په اندازه دحاصل څخه عشر وباسی اوپه نغدو روپو باندی یې چی په اجاره ورکړی وی نوبیا داجاره ورکوونکی په ذمه باندی عشردی اویاپه اجاره نیوونکی باندی بناءً علی اختلاف القولین (١). فقط

سوال: (٢٢٩) زما سره یوه اندازه مځکه ده، دڅه مځکی خراج دمځکی مالك هندوته ورکول کیږی اودڅه مځکی حاصلات مسلمان زمیندار ته ورکول کیږی، اوس به زه عشر ورکوم اوکه نه؟ زه په نیمکاره مځکه ورکوم مګر تخم کاریګر ورکوی په دی حالت کی به دکم حساب څخه عشر ورکوی که چیری نیم تخم دواړه اونیم کاریګری ورکړی نوبیا به په کم حساب ورکول وی؟

جواب: دشامی دیو روایت څخه معلومیږی چی ددار الحرب په مځکو کی نه عشر سته اونه خراج سته (٢) اوپه کمو عشری مځکو کی چی عشر لازمیږی، اوفرض دی په هغه کی فتوٰی په دی لیکل سویده چی دمزارعت په صورت کی دزمیندار مالك پرذمه باندی دخپلی حصی په اندازه عشرلازمیږی یعنی هرڅومره غله چی دچاپه برخه کی راسی دهغه

= المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٥) په مسئوله صورت کی چونکی مځکه دغیر مسلم ده نو ددغه وجه څخه په دی کی عشر نسته) واخذ الخراج من ذمی غیر تغلبی اشتری ارضا عشریة من مسلم وقبضهما منه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٧٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٩). ظفیر

(١). والعشر علی الموجر کخراج موظف وقالا علی المستاجر کمستعیر وفی الحاوی وبقولهما ناخذ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٧٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٤). ظفیر

(٢). احتراز عما وجد فی دارالحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر (ردالمحتار باب الرکاز ج٢ ص ٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٠). ظفیر

عشر به هغه اداء کړی ([1]). فقط

په عشر اوځلویښتمه کی څه فرق دی؟ سوال: (٢٧٠\١١) دعشر اوپه څلویښتمه کی څه فرق سته اوکه نه؟

دهقانی جائزده اوکه نه؟ سوال: (٢٧١\١٢) کشت کاری جائز ده اوکه نه؟ یعنی په دهقانی باندی مځکه کرل جائزدی اوکه نه؟

دمالیی والا په فصل کی عشر سته اوکه نه؟ سوال: (٢٧٢\١٣) په کشت کاری (دکمی دهقانی مالیه چی حکومت ته ورکول کیږی) کی عشر یا څلویښتمه ورکول واجب دی اوکه نه؟

په ذکر سوی درو کی کمه مځکه عشری ده؟ سوال: (٢٧٣\١٤) زید پر دری قسمه دهقانی کوی اول داچی دکم رئیس اویا امیر څخه یې مځکه په دهقانی سره نیولی ده دکمی پیداوار چی ددواړو په مینځ کی نیم په نیمه تقسمیږی اومالیه یې مالك ورکوی دوهم دا چی زید په خپله مځکه کی فصل کرلی دی، ددی مالیه زید ورکوی، دریم داچی دزید سره دمالیی څخه معاف مځکه ده په دی کی فصل کری اومالیه یې نه ورکوی، په دی دری واړو صورتونو کی پرزید باندی عشر ورکول واجب دی اوکه نه؟

عشر فرض دی که واجب اوکه مستحب؟ سوال: (٢٧٤\١٥) عشر څلویښتمه ورکول فرض دی که واجب اوکه مستحب؟

عشر به په هرفصل کی ورکوی اوکه په کال کی یو وار؟ سوال: (٢٧٥\١٦) عشر څلویښتمه په کال کی یووار ایستل کیږی اوکه نه په هرفصل کی؟

دعشر مصارف کم دی؟ سوال: (٢٧٦\١٧) دعشر، او څلویښتمی مصارف څوك دی؟

جواب: \١١ څخه تر\٧. دهقانی جائزده لکه څنګه چی دهغه تفصیل دفقه په کتابونو کی لیکل سویدی اوموجود دی او ددهقانی چی کم صورتونه په سوال کی لیکل سویدی هغه ټول درست دی ([2]) اوعشر دمځکی دحاصلاتو لسمه برخه ده، اوڅلویښتمه برخه په زکات کی ورکول کیږی کم چی په روپو، اشرفیو او دتجارت په مالونو کی اوپه نورو باندی لازمیږی، نو دمځکی دپیداوار څخه لسمه برخه پیداوار ورکول کیږی دهغه نوم عشر دی، په روپو اونورو کی دکال تیریدلو څخه وروسته به څلویښتمه حصه ورکوی او هغه زکات دی اودشامی دروایت څخه معلومیږی چی دهندوستان په مځکو کی عشر

([1]). وفی المزارعة ان کان البدر من رب الارض فعلیه ولومن العامل فعلیهما بالحصة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٧٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٥). ظفیر

([2]). وعندهما جائزة والفتوٰی علی قولهما لحاجة الناس (عالمگیری کتاب المزارعة ج٥ ص ٢٣٥ ، ماجدیه ج ٥ ص ٢٣٥). ظفیر

نسته، لیکن په کم ځای کی چی عشر لازمیږی هلته به په هرفصل کی دمځکی په حاصلاتو کی لسمه برخه ورکوی مثلا په لسو منو کی به یومن ورکول لازمیږی او په روپو اونورو کی به په ټول کال کی یووار زکات ورکول فرض وی اوعشر چی په کم ځای کی لازم دی هلته چی په هرفصل کی دمځکی آمدنی وی په هغه کی عشر دی یعنی لسمه برخه په حاصلاتو کی ورکول لازم دی (١) اودعشر اودزکات مصارف فقیران اومسکینان دی اونور وغیره (٢). فقط

په سبزی کی زکات سته اوکه نه؟ که وی نوڅومره؟ سوال: (٢٧٧) په سبزی کی که زکات وی نوڅومره به ورکوی؟

جواب: دامام صاحب په نزد دمځکی په حاصلاتو کی عشر زکات دی هغه په سبزیجاتو اوپه ترکاریو باندی هم راځی خو چی ترڅو پوری شرائط دعشر متحقق سوی نه وی نو عشر نه واجبیږی، او دهندوستان دمځکو په عشری کیدوکی تردد او اختلاف دی (٣). فقط

په دهقانی باندی په ورکول سوی مځکه کی عشر په چا دی؟ سوال: (٢٧٨) په حکم دخراج، مقاسمه، مزارعت دعقد (نیمکاری) سره مو سرفرازه کړی، چی ټوله به دمځکی په مالك باندی وی اوکه نه دهقان به یې هم دخپلی برخی څخه باسی لکه څنګه چی دعشر حکم دی نوپه شامی کی ددی عبارت: ثم اعلم ان هذا كله فی العشر اما الخراج فعلی رب الارض اجماعًا كما فی البدائع (٤). څه مطلب دی؟

جواب: دشامی په دریم جلد باب العشر والخراج والجزية کی ددرمختار ددی قول چی، وهو ای الخراج نوعان خراج مقاسمة الخ. په شرح کی دی. وقد تقرر ان الخراج المقاسمة كالعشر لتعلقه بالخارج ولذا يتكرر بتكرر الخارج فی السنة وانما يفارقه فی المصرف فكل شيئ يؤخذ منه العشر اونصفه يؤخذ منه خراج المقاسمة وتجری الاحكام التی قررت فی العشرة وفاقًا الخ (٥) ددی عبارت څخه معلومه سوه چی منقوله عبارت دشامی

---

(١). يجب العشر الخ فی ارض غير الخراج الخ بلا شرط نصاب الخ وبلا شرط بقاء وحولان حول (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٧٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٥). ظفير

(٢). مصرف الزكوٰة والعشر الخ هوفقير وهومن له ادنی شی ای دون نصاب الخ (ايضا باب المصرف ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩) . ظفير

(٣). احتراز عما وجد فی دار الحرب فان ارضها ليست ارض خراج اوعشر (ردالمحتار باب الركاز ج٢ ص ٧١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٠). ظفير

(٤). ردالمحتار كتاب الزكوٰة باب العشر ج٢ ص ٧٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٥. ظفير

(٥). وګوری ردالمحتار كتاب الجهاد باب العشر والخراج والجزية ج٣ ص ٣٥٩ ، ط. س. ج٤ ص ١٨٥. ظفير

چی: ثم اعلم ان هذا کله فی العشر اما الخراج فعلی رب الارض اجماعًا کما فی البدائع. کی دخراج څخه مراد هغه خراج موظف دی نه خراج مقاسمه او داصل مسئلی متعلق یو روایت دشامی په باب الرکاز صفحه (۴۵) کی هم دی. ولهذا قال القهستاني بعد قوله في أرض خراج أو عشر الاخصر في أرضنا سواء كانت جبلا أو سهلا مواتا أو ملكا، واحترز به عن داره وأرضه وأرض الحرب اهـ. ثم رأيت عين ما قلته في شرح الشيخ إسماعيل حيث قال: ويحتمل أن يكون احترازا عما وجد في دار الحرب، فإن أرضها ليست أرض خراج أو عشر ([1]) الخ، ددی څخه معلومه سوه چی دهندوستان مځکی نه عشری دی اونه خارجی .

دمځکی والا په میراثي مځکه کی عشر سته اوکه نه؟ سوال: (۲۷۹) که یو سړی دمځکی والا څخه مځکه واخلی اووی کړی او دډیری زمانی په تیریدو سره ددهقانی دامځکه میراثی سی، مځکه دنهر څخه اوبه کیږی او دهغه محصول هم ورکوی، نوپه دی مځکه باندی عشر سته اوکه نه؟

جواب: ددی مځکی په حاصلاتو کی عشر نسته ([2]). (اصل علت دادی چی ددار الحرب مځکه نه عشری ده اونه خراجی. ظفیر)

په خراجي مځکه کی عشر سته اوکه نه؟ سوال: (۲۸۰) په خراجی مځکه کی عشر واجب دی اوکه نه؟

جواب: دامسئله داحنافو په مینځ کی اتفاقی ده چی خراج اوعشر نه سره جمع کیږی، لهذا په خراجی مځکه کی دعشر دورکولو فتوٰی دده په نزد صحیح نه ([3]) ده، خو وروستنی خبره داده چی که چیری ددی مځکی څخه کمه چی عشری ده، حاکمان ځینی خراج واخلی نو مابینه وبین الله دی داسړی عشر ورکړی اودا احتیاط دی اودا امر هم محقق دی چی دمجتهد امام دکم یوروایت څخه استدلال کول ددغه حدیث دصحت او حجت کیدو دلیل دی. فقط

دکمی مځکی چی محصول حکومت اخلی کمه خاصه بودیجه نه وی په هغه کی عشر سته اوکه نه؟ سوال: (۲۸۱) هغه مځکه چی په مشکل سره یې حکومت ته دهغه دپیداوار

---

[1]. ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص ۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۱۹. ظفیر

[2]. احتراز عما وجد فی دار الحرب فان ارضها الیست ارض خراج اوعشر الخ (ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص ۲۱ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۰. ظفیر

[3]. اشار الی ان المانع من وجوبه کون الارض خراجیة لانه لایجتمع العشر والخراج (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص ۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۵. ظفیر

ځخه محصول ورکول اويا ډيره معمولی بوديجه وی په هغه باندی عشر فرض دی اوکه نه؟

جواب: په دغسی مځکه کی عشر واجب نه دی اودشامی دروايت ځخه معلوميږی چی دهندوستان پرهيڅ يوه مځکه باندی عشر نه واجبيږی ځکه چی ددار الحرب مځکی نه عشری دی اونه خراجی په يوه کی هم نه شميرل کيږی ([1]). فقط

په وياله اوبه کيدونکی مځکه کی عشردی اوکه نصف عشر؟ سوال: (٢٨٢) په نهری مځکو کی عشردی اوکه نه نصف عشردی؟

جواب: په نهر باندی اوبه کيدونکی مځکی کی چی داوبو محصول يې ورکوی نصف عشر واجبيږی. کمافی الدر المختار ويجب نصفه فی مسقی غرب ودالية الخ وفی کتب الشافعية اوسقاه بماء اشتراه وقواعدنا لاتاباه الخ ([2]). فقط

کمی مځکی چی په مزدوری خړوبول کيږی په هغه کی عشردی اوکه نصف عشر؟ سوال: (٢٨٣) ټولی هغه مځکی چی دعيسايانو په کوشش آبادی سوی دی اوددی ځخه مخکی بالکل ورانی وی اوهغه حاصلات چی سوی هغه په باران سوی اواوس به دنهرونو په ذريعه هرځای ته اوبه ځی اوخراج هم اخلی ځينی مولويان وايې چی ټول نهری مځکی دعشری مځکو په حکم کی دی، چی عشر يې ورکول کيږی اوبعض ددی پرعکس خبره کوی اوځينی يې دشلو ځخه ديوی برخی خبره کوی، په دی کی کم قول راجح اوکم قول مرجوح دی؟

جواب: په شامی کی راغلی دی چی ددار الحرب په مځکو کی عشر اوخراج نسته ددی روايت ځخه معلومه سوه چی دهندوستان په مځکوکی عشر واجب نه ([3]) دی اوهم دارکم فقهاوو تصريح کړيده چی فرمايلی دی، چی که چيری عشری مځکو ته دنهرونو اوبه ورکول سی اومحصول اوقيمت يې حکومت ته ورکول سی نوپه هغه کی نصف عشر يعنی شلمه برخه واجبيږی ([4]). او دا تصريح هم سويده چی عشر دخراج سره نه جمع کيږی ([5]). فقط

([1]). وګوری شامی باب الرکاز ج٢ ص ٧١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٨. ظفير

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص٢٨ وص ٢٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٨. ظفير

([3]). وګوری شامی باب الرکاز ج٢ ص ٧١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٠. ظفير

([4]). ويجب نصفه فی مسقی غرب اى دلو کبير ودالية اى دولاب لکثرة المونة الخ بلارفع مئون الخ الزرع وبلا اخراج البذر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص٢٨ وص٢٩ ، ط. س. ج٢ ص٣٢٨). ظفير

([5]). لانه لايجتمع العشر والخراج (ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٥). ظفير

په هغه فصل کرلو چې شپږ سوه خرچه وسی او داتو سوو پيداوار وکړی نو په دی کی زکات څنګه راتلای سی؟ **سوال**: (٢٨۴) يودهقان په خپله مځکه کی په فصل کرلو ټول شپږ سوه روپی مصرف کړی، اومځکی حاصل داته سوه روپو وکی نوپه دی باندی څومره روپی واجبيږی؟

په کمه مځکه کی چې تاوان وسی په هغه کی عشر سته اوکه نه؟ **سوال**: (٢\٢٨٥) دغه رکم په بله مځکه باندی شپږ سوه روپی ولګيدی اوټول فصل يې دپنځو سوو روپو وکړی يعنی داصل لګښت څخه يې سل روپی کمی کړی اوتاوان يې وکی نواوس دزکات څه شکل کيدی سی؟

آيا په هَرْهَټْ باندی په اوبه کيدونکی مځکه کی عشر سته؟ **سوال**: (٣\ ٢٨٦) يودهقان دی چې داول لمبر سوال په شان دمځکی ټول مصارف يې برداشت کړل اودهَرْهټ په ذريعه يې دکوهی څخه اوبه کړه اوفصل يې خړوبه کی، اوحاصل يې ترلاسه کی، نوددی به زکات څنګه اداء کوی؟

جواب: ١، ٢، ٣،: په کمو مځکو کی چې عشر واجب دی نودهغه دټول پيداوار څخه عشر ايستل واجب دی بغير ددی څخه چې اخراجات ځينی وباسی. کما فی الدر المختار بلا رفع مئون الزرع الخ (١). اوپه دهقان اودمځکی پر مالك باندی په اندازه دخپلی برخی عشر ايستل واجب دی اودشامی په باب الركاز کی ديو روايت څخه معلوميږی چې ددار الحرب په مځکو باندی عشر نسته اوپه دريم نمبر سوال کی يوبل ډول تفصيل دی او هغه داچې په دی کی شلمه حصه ايستل واجب دی (٢). پاته نور جواب هغه ذکرسوی معلومات دی. فقط

آيا دعامل طلب دعشر په اداء کولو کی شرط دی؟ **سوال**: (٢٨٧) زيد وايې چې ايا دعشر په اداء کولو کی دعامل طلب شرط دی؟ ترڅو پوری چې عامل غوښتنی نه وی ترهغه پوری يې اداء کول واجب نه دی؟

جواب: دزيد قول صحيح نه دی دعشری مځکی خاوند چې که چيری په خپله دهغه عشر اداء کړی نو داکار هم درست دی. ويسقط عن صاحب الارض كما لو ادى بنفسه الخ. شامی (٣). البته دابيل اوجلا بحث دی چې په دار الحرب کی عشر واجبيږی اوکه نه؟ په

---

(١). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٨. ظفير

(٢). وما سقى بغرب اودالية اوسانية ففيه نصف العشر على القولين لان المؤنة تكثر فيه وتقل فيما يسقى السمآء اوسيحا وان سقى سيحا وبدالية فالمعتبر اكثر السنة كما هو فى السائمة (هدايه باب زكوٰة الزروع والثمار ج١ ص ١٨۴). ظفير [باقی]

شامي كې تصريح سويده چې په باب الركاز كې دي چې ددار الحرب مځكې نه عشري دي اونه خراجي نوددې څخه معلوميږي چې په دار الحرب كې عشر نه واجبيږي اوكه استحساناً يې وركې نوښه ده. فقط

دهندوستان په مځكو كې دعشر دنيستوالي مفصل بحث او دديوبند دعلماوو عمل: سوال:

(٢٨٨) مفتي صاحب السلام عليكم، زه دا دوي ورځې كيږي چې به حده تنګدسته يم الله ﷻ دې اسان كړي زه تراوسه پوري غافل وم اوزما په ذهن كې وه چې عشر پرغله لكه زكات واجب الاداء دې دغلې اوداني په راتګ سره مې يوڅه معمولا دالله ﷻ لپاره وركول داحتياط دمخې، لسمه حصه مې نه وركوله، دتير وخت په باب څه وكړم اوهيڅ حساب كتاب نسته، آيا معافي كيدې سې؟ مدرسي ته غله ليږل سخت دي قيمت ليږل كيدې سي، دنصف عشر معنى څه ده؟ زه عشر وركړم اوكه نصف عشر؟ په املاكو كې عمومًا غله تاكل كيږي او وصول كيږي اوپه ډير مقدار كې راځي چې په نغدو بدليږي او وصول كيږي. ددې نغدو روپو سره يوځاي يې زكات اداء كيږي غالبا په دې كې به كمه مضائقه، باك نه وي؟

جواب: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته، ستا خط را ورسيدی، اول تريوڅه وخته پوري ددې علم وو چې دهندوستان په عشري مځكو كې عشر واجب دي اودحضرت رحمة الله عليه دبعضو ليكنو موافق دافيصله وسوه اوپه ډيرو ځايونو كې دافتوىٰ وركول سوه چې دمسلمانانو په مملوكه عشري مځكو كې عمومًا عشر واجب وګڼل سو اوعشر به پكښې وركول كيږي ځكه چې په عشري مځكو كې عشر اويا نيم عشر ايستل ددې آيت كريمه په حكم: وآتوا حقه يوم حصاده ([1])، دزكات په شان فرض دي، بيا يوڅه زمانه وروسته په ما لا بد منه ([2]) كې دحضرت قاضي ثناء الله صاحب رحمه الله پر دغه تحقيق اوپر تصريح باندي نظر ولګيدی چې موږ په خپل كتاب كې دزكوٰة دمسائلو سره دعشر احكام په دې وجه نه دي ليكلي چې په دغه دياركې مځكې عشري نه دي، ددې سره دامنل هم ضروري دي چې دقاضي صاحب داحكم فرمايل چې دلته عشري مځكې نسته، ددې زماني متفقه مسئله به وي ځكه چې قاضي صاحب دحضرت شاه صاحب رحمهما الله (مړ ١١٧٦هـ) خاص شاګرد اودحضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله اودنورو حضراتو هم عصره دې اوټول حضرات

([3]). ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٢٧ تحت قول الماتن ولذاكان للامام اخذه جبرا، ط. س. ج٢ ص ٣٢٢. ظفير

([1]). سورة انعام ركوع :۴ . ظفير

([2]). اوهمدا ركم احكام دعشر دعشري مځكې چې په دې ښارو كې نسته الخ ذكر سوي نه دي (ما لابد منه: كتاب الزكوٰة ص ۹۴). ظفير

په خپلو کی متفق دی، اوددوی په مینځ کی کم خلاف نسته، ضروری ده چی دامسئله به ددی زمانې متفق علیه مسئله وی چی په هندوستان کی عشری مځکی نسته. بیا ددی سره عمومًا ددی عادت په لیدو چی یو چا په خپلو بزرګانو کی دعشر اهتمام په مثل دزکوٰة نه کوی تعجب به کیدی اوتردد به هم کیدی، اوګویا چی دحضرت قاضی صاحب دتحقیق تائید به کیدی چی داسی هم سوی دی چی ټولو بزرګانو دعشر اهتمام ترك کړی دی ضروری کمه خبره سته دکم په وجه چی عملاً متروك سویدی، څوکاله کیږی چی حضرت مولانا محمد انور شاه صاحب رحمه الله یا یوبل صاحب دافرمایلی دی چی په شامی باب الرکاز کی دارو ایت دی چی ددار الحرب په مځکو کی عشر واجب نه دی، هغه مځکی نه عشری دی نه خراجی. دارو ایت می ولیدی، او داچی می ولیدی دحضرت قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله دتحریر وجه معلومه سوه چی داوجه ده چی هغه حضرات دهندوستان مځکی عشری نه ګڼی ځکه چی هندوستان هغه حضرات دار الحرب ګڼی، دشامی باب الرکاز عبارت دادی: واحترز به عن داره وارضه وارض الحرب الخ فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر الخ (١)، اوعبارت دما لابدمنه دادی: (٢)

اوتفصیل دنصاب داقسامو دسوائمو اوقدر واجب دهغه طول لری اوپه دی دیار کی دا مالونه په قدر دوجوب دزکوٰة نه دی لهذا مسائل دزکوٰة دهغو مذکور نه سوی اوهمدا رکم احکام دعشری مځکو چی په دی دیار کی نسته اومسائل دعاشر چی پر لارو او شاهراګانو باندی وی ذکر نه سوی (٣).

ددی څخه وروسته دا اشکال باقی پاته کیږی چی حضرت اقدس ګنګوهی رحمه الله به دوجوبِ عشر حکم فرمایی اوتحریرًا اوتقریرًا یې داظاهر فرمایلی دی غالباً جناب ته به هم یادوی یابه معمول دحضرت معلوم وی، اوپه دی کی شك نسته چی دنصوص آیات اواحادیثو مقتضٰی هم دغه معلومیږی، ځکه چی امام صاحب رحمه الله په جمیع ما اخرجت الارض کی دوجوبِ عشر حکم فرمایی اوڅنګه چی زکوٰة په دارالحرب کی نه ساقطیږی بلکه صاحب مال دی په خپله اداء کړی په دی ډول عشر هم په هرځای کی واجب کیدل په کاردی، هو! چونکی دعشر دوجوب دپاره دمځکی عشری کیدل ضروری دی اوکله چی دا وویل سی

---

(١). ردالمحتار باب الرکاز ج٢ ص ٧١، ط. س. ج٢ ص ٣٢٠. ظفیر

(٢). اصل عبارت دما لا بَدّ منه په فارسی کی دی موږ یې دلته پښتو ترجمه ولیکل، دیادونی وړده چی دحضرت قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله دا ګټور او مفید کتاب یعنی (ما لا بُدّ منه) اوس په صفا اوعام فهمه پښتو ترجمه سوی او دشرح او توضیح سره په دوو ٢ ټوکانو کی چاپ سویدی. ولله الحمد والمنّة. حقانیؔ

(٣). وګوری: ما لابدمنه ازقاضی ثناء الله پانی پتی ص ٩۴ وص ٩۵ کتاب الزکوٰة. ظفیر

چي ددار الحرب اراضي عشريه نه دي نوبيا به دوجوب عشر هم کمه وجه نه وي، او د حضرت اقدس رحمه الله قول اوفعل ته به پراحتياط باندي مبنى وويل سي لکه چي زموږ مرشد حضرت مولانا شاه رفيع الدين صاحب قدس سره (مهتمم دار العلوم ديوبند) به هم خپلو خاصو خلګو ته دعشر دايستلو حکم فرمايي اوپردي بناء باندي به حضرت والد صاحب رحمه الله چي کم محاصل په غلي کي په قدر دحصه بنده ته ورکوله چي هغه به لس شل دړي تقريباً کيدلي نوبنده به په کورکي ويل چي په لسو دړيو کي يوه دړي دالله تعالى دپاره ورکړي.

(۲) دعشر قيمت ورکول جائز دي ([1]).

(۳) نيم عشر شلمه حصه ده اودا فرق داوبو دقيمت وغيره دوجي کيږي يعني دعشر په اراضيو کي اصل عشر يعني لسمه حصه دپيداوار ورکول واجب دي ليکن که په مځکه کي په اوبو ورکولو کي مزدوري زياته صرف سوي وي اومشقت سوي اوخرڅ زيات سوي وي نوپه ځاى دعشر نصف عشر ورکول باقي پاته کيږي لکه چي ددرمختار وغيره دعبارت څخه معلوميږي. ويجب في مسقى سماء اى مطر وسيح الخ ويجب نصفه في مسقى غرب اى دلوكبير ودالية اى دولاب لكثرة المؤنة وفي كتب الشافعية اوسقاه بماء اشتراه وقواعدنا لا تاباه ([2]). اوعلامه شامي رحمه الله ويلي دي چي وجه داده چي کله خرڅ زيات وي نوپرځاى دعشر به نصف عشر يعني شلمه حصه واجب پاته سي. فقط والله تعالى اعلم

<u>دهندوستان په مځکه کي عشرواجب دي اوکه نه دي؟</u> سوال: (۲۸۹) فقهاوو چي دافرمايلي دي چي عشر اوخراج نه جمع کيږي، دا دهغوى فرمايل دمسلمانانو دحکومت لپاره مخصوص دي چي دکمي مځکي خراج واخيستل سي دهغه عشر نسي اخيستل کيدي يا داچي دغير اسلامي حکومت دپاره به هم داحکم وي، دشامي په دوهم جلد کي تصريح ده چي حربي کفار زموږ پرملك غالب سي نودهغوى به هم هغه حکم وي کم چي دبغات دي يعني داموال ظاهره زکوٰة چي څنګه دباغيانو په اخيستلو سره دمالك څخه ساقطيږي په دي شان دمتغلب حربي په اخيستلو سره هم ساقطيږي، دعلامه داراى قابل قبول ده يا نه ده. غرض داچي دهندوستان په مځکو کي عشر واجب دي اوکه خراج؟

جواب: علامه شامي په باب الرکازکي داتصريح کړيده چي ددارالحرب اراضي نه خراجيه دي اونه عشريه يعني هلته نه خراج واجب دي اونه عشر، کفارو چي کم خراج اخيستى

([1]). حتى يجوز اداء قيمة (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۲) . ظفير

([2]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۸ وص ۲۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۲ و۳۲۸). ظفير

دی ګویا هغه خراج شرعی نه دی اونه واجب دی ددی څخه معلومیږی چی په هندوستان کی کله چی دی ته دار الحرب وویل سی لکه چی دمحققینو رایه ده عشر واجب نه دی، په احتیاط که یې څوك ورکړی نو دا امر اخر دی اوددی تائید دحضرت قاضی ثناء الله پانی پتی دتصریح څخه هم کیږی چی هغه په ما لابدمنه کی فرمایلی دی چی موږ مسائل دعشر ځکه ونه لیکلی چی په دې بلادو کی عشر واجب نه دی، نو که دهندوستان مځکو ته عشری اوخراجی ویل سوی وی نوبیابه داحکم دلته هم جاری کیدی چی عشر اوخراج نه جمع کیږی او ددی تائید ددی څخه هم کیږی چی مولانا عبدالحی مرحوم رحمه الله په خپله فتاوىٰ کی ددی تصریح کړیده چی په هندوستان کی چی دکمی مځکی خراج اخیستل کیږی پرهغه عشر نسته، اوددی قاعدی څخه یې استدلال فرمایلی دی چی عشر اوخراج نه جمع کیږی اودعلامه شامی داتحقیق چی: ویظهر لی ان اهل الحرب لو غلبوا علی بلدة من بلادنا کذالك الخ (١). صحیح معلومیږی. عبارت دباب الرکاز دادی. واحترز به عن داره وارضه وارض الحرب ثم رایت عین ما قلته فی شرح الشیخ اسمٰعیل حیث قال ویحتمل ان یکون احترازا عما وجد فی دار الحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر الخ. ج٢ ص ٣٢٠ شامی (٢). فقط

په افیون کی عشر واجب دی اوکه نه دی؟ سوال: (٢٩٠) افیون مال متقوم دی اوکه نه دی اوپه دی کی عشر واجب دی اوکه نه دی؟

جواب: اقول وبالله التوفیق، په دی صورت کی صحیح دامعلومیږی چی افیون مال متقوم دی اوپه دی کی عشر واجب دی .

دوریجو زکات: سوال: (٢٩١) وریجی چی په مځکه کی پیداکیږی ددی دزکات څه حساب دی؟

جواب: دوریجو زکوٰة لسمه حصه ده، کم شیان چی پیداوار دمځکی وی په هغوکی دی لسمه حصه ورکول سی.

دتمباکو په پیداوار باندی عشر سته اوکه نه؟ سوال: (٢٩٢) که یو سړی په خپله مځکه کی تمباکو وکرل نوددی په پیداوار کی به عشر ورکوی اوکه نه؟

جواب: که عشری مځکه وی نوعشر به په دی کی لازم وی (٣). فقط

---

(١). ردالمحتار باب الرکاز ج٢ ص ٢١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨٨. ظفیر

(٢). قال ابوحنیفة رحمه الله فی قبیل ما اخرجته الارض وکثیره العشر سواء سقی سبیحا اوسقته السماء الا القصب والحطب والحشیش (هدایه ج١ ص ١٨٣). ظفیر

(٣). وقال ابوحنیفة رحمه الله فی قلیل ما اخرجته الارض وکثیره العشر (هدایه باب زکوٰة الزروع والثمار ج ١ =

دعشری مځکی تعریف او دمهاجن څخه اخیستل سوی مځکه او دهندوستان دنورو مځکو څه حکم دی؟ سوال: (۲۹۳) دعشری مځکی څه تعریف دی اوآیا دخپل طرف ټولی مځکی عشری دی اودټولو عشر ورکول واجب دی؟ حالانکی سرکار هم مال گذاری اخلی اوکمه مځکه چی دمهاجن څخه مسلمان اخیستی ده دهغه دامدنی څخه هم عشر واخیستل سی اوکه نه ؟ اوعشر دمالك په ذمه دی اوکه نه دکاشتکار؟ كه مالك يې وركړی نوڅه حکم دی؟

جواب: دعشری مځکی مطلب دادی چی په کمه مځکه کی عشر واجب وی هغه عشری ده (١). کم وخت چی پوره حال معلوم نه وی لکه چی په دی وخت کی دی نوعمومًا داحکم کیدی سی چی دمسلمانانو مملوکه مځکه عشری گڼل کیږی، اودکفارو مملوکه مځکه (خراجی) نو دمسلمان سره چی کمه مځکه مثلاً دمعافی راروانه وی یا هغه دکم مسلمان څخه په بیعه اخیستی وی هغه عشری ده اوکمه مځکه یې چی دکافر څخه په بیعه اخیستی ده هغه به خراجی وی اوبعضو حضراتو داسی هم لیکلی دی چی کله سرکار دټولو مځکو محصول اخلی نوټولی خراجی دی مگر داحتیاط تقاضٰی داده چی مسلمان دی په خپلو مملوکه اراضیو کی عشر وباسی (٢) که مځکه په اجاره ورکول سوی وی نو د امام صاحب رحمه الله په نزد عشر پرمالك باندی دی، داجاری دروپو لسمه حصه دی صدقه کړی، كه مالك يې پخپله وركړی نودټول پيداوار لسمه حصه دی وباسی. سرکاری محصول وغیره به نه وضع کیږی. (٣) فقط

په خپله کرلی کی عشر سته اوکه نه؟ سوال: (۲۹۴) بکر لږ مملوکه مځکه په خپله کری او دغه ذریعه درزق دهغه داهل اوعیال ده پرده باندی په کم پیداوار کی عشر واجب دی او که نه دی؟

جواب: عشر اونصف عشرپرده باندی واجب دی (لیکن که هندوستان چیری دارالحرب ومنل

= ص ۸۳). ظفیر

(١). عشری مځکه داسی مځکی ته وایی دکمی مځکی مالك چی مسلمان سوی وی یا دقوت اوزور په ذریعه باندی یوه علاقه فتح سوی وی اوبیا دهغه ځای مځکی پر مجاهدینو باندی تقسیم سوی وی، کما فی الهدایة : وهو کل ارض اسلم اهلها اوفتحت عنوة وقسمت بين الغانمین فهی ارض عشر (هدایه باب العشر والخراج ط. س. ج٢ ص ٥٢٧). ظفیر

(٢). والعشر على الموجر كخراج موظف (درمختار) ای لواجر الارض العشرية فالعشر عليه من الاجرة كما فی التتارخانیه (ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٧۴ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣۴). ظفیر

(٣). اخذ البغاة والسلاطين الجائرة زكوٰة الاموال كالسوائم والعشر والخراج لا اعادة على اربابها ان صرف الماخوذ فی محله الاتی ذکره وان لایصرف فيه فعليهم فيما بينهم وبين الله اعادة غير الخارج الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨٨). ظفير

سی نوبیا واجب نه دی لکه چې مخکی تیرسوه. ظفیر)

دکمې غلې چې زکات نه وی ایستل سوی هغه حلاله ده یا حرامه؟ سوال: (٢٩٥) زید په غله کی لسمه حصه زکات نه دی ایستلی نودغه غله حرامه ده یا حلاله؟

جواب: هغه غله حلاله ده، اوزید په زکوٰة نه ورکولو گنهگار اوفاسق دی.

دکاشتکار او زمیندار دمځکی پر پیداوار باندی زکوٰة: سوال: (٢٩٢) پرمسلمانانو زراعینو باندی خواه زمیندار وی یاکاشتکار په پیداوار زراعت کی یوډول زکوٰة فرض دی، اوکه څه فرق سته اوڅومره اندازه زکوٰة ورکول پکار دی.

په ټول پیداوار کی زکوٰة دی یا خراج پرجلا جلا باندی؟ سوال: (٢٩٧) په ممالك متحده آگره او اوده کی هیڅ اراضی داسی نسته چې اوسط مال گذاری دسرکار څخه مستثنٰی وی، نو پرحالت متذکره زمیندار اوکاشتکار ته دپیداوار او اراضی څخه غله په قدر دقیمت درقم دمال گذاری چې سرکار ته زمیندار خارج کی پرباقی غله باندی زکوٰة ورکول په کاردی اوکه پرټول پیداوار باندی بغیر دتفریق درقم دمال گذاری وغیره څخه؟

جواب: ١\ : دمځکی دپیداوار زکوٰة لسمه حصه ده دی ته عشر ویل کیږی (١) لیکن شرط دا دی چې مځکه عشری وی خراجی نه وی (٢) دمزارعت په صورت کی یعنی دغلی دتقسیم په صورت کی عشر پردواړو باندی دی یعنی څومره اندازه غله چې دمځکی دمالك په حصه کی راسی دهغه عشر دی هغه ورکړی اوڅومره اندازه چې دکاشتکار په حصه کی راسی دهغه عشر دی هغه ورکړی. (٣)

٢\ : مځکه که عشری وی نودټول پیداوار لسمه حصه دی ورکړی، خرڅ سرکاری وغیره دی پرتقسیم نه سی. (٤)

---

(١). قال ابوحنیفة رحمه الله فی قلیل ما اخرجته الارض وکثیره العشر سواء سقی سیحا اوسقت السماء الا القصب والحطب الخ وسقی الغرب او دالیة اوسانیة ففیه نصف العشر (هدایه باب زکوٰة الزروع ج١ ص ١٨٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٥). ظفیر

(٢). وتجب فی مسقی سماء وسیح بلا شرط نصاب وبقاء وحولان حول الخ یجب العشر ویجب نصفه فی مسقی غرب ودالیة لکثرة المؤنة الخ بلا رفع مئون الزرع وبلااخراج البذر لتصریحهم بالعشرفي كل الخارج (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٧٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢۴ - ٣٢٢). ظفیر

(٣). وفي المزارعة ان كان البذر من رب الارض فعلیه ولومن العامل فعلیهما بالحصة (الدرالمختار) ان العشر علی رب الارض عنده وعلیهما عندهما الخ وهو الظاهر لما فی البدائع من ان المزارعة جائزة عندهما والعشر یجب فی الخارج والخارج بینهما فیجب العشر علیهما (ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٧٥). ظفیر

(۴). اخذ البغاة والسلاطین الجائرة زکوٰة الاموال کالسوائم والعشر والخراج لا اعادة علی اربابها ان صرف الماخوذ فی محله الاتی ذکره وان لایصرف فیه فعلیهم فیما بینهم وبین الله اعادة غیر الخارج الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨٨). ظفیر

دعشر او دخراج دنه جمعه کیدو مطلب څه دی؟ سوال: (۲۹۸) مولانا عبدالحی صاحب رحمه الله په مجموعة الفتاوٰی جلد دوهم ص ۳۱۸ کی لیکلی دی چی څوك په مملوکه مځکه کی دباران په اوبو کرونده وکړی نودغلی عشر پرهغه باندی واجب الاداء دی مګر په هغه صورت کی چی خراج دمځکی حاکم دوخت ته ورکول سی په هغه وخت کی عشر ساقط دی په حکم دعبارت دردالمحتار وغیره: کما لایجتمع العشر مع الخراج انتهٰی، ددی مسئلی تفصیل څنګه دی او: قوله لا یجتمع العشر مع الخراج څه معنٰی لری؟

جواب: معنٰی قوله لا یجتمع العشر مع الخراج انه لا یؤخذ من الارض الخراجیة العشر، ولا من العشریة الخراج ولٰکن ان اخذ من العشریة الخراج فهل یسقط العشر فهو محل تامل. نو ښکاره داده چی مولانا عبد الحی صاحب مرحوم رحمه الله دخراجی مځکی کم حکم لیکلی دی چی که چیری حاکمانو دخراجی مځکی څخه خراج واخیستی نودعشر اداء کول لازم نه دی لیکن که دعشری مځکی څخه خراج واخیستل سی نوښکاره داده چی دیانةً دعشر اداء کولو ذمه پرمالك باندی لازمه ده (۱).

دسرکاري محصول په وجه عشر ساقط دی اوکه نه؟ سوال: (۲۹۹) دسرکاری مځکی څخه چی محصول واخیستل سی ددی څخه عشر ساقطیږی اوکه نه؟

جواب: دعشری مځکی څخه محصول اخیستل دعشر ساقطونکی نه دی، هذا هو الاحتیاط (۲)، هو! که چیری عشری نه وی بلکی خراجی وی نومحصول کافی دی یعنی په هغه کی عشر واجب نه دی.

په ذکرسوو درو قسمونوکی په کم کی عشردی؟ سوال: (۳۰۰) زما سره دری قسمه مځکه ده په دی کی پرکم باندی خراج دی اوپه کم کی عشردی او څنګه؟ اول قسم سرکاری ځنګل سرکاری پروت وو سرکار پکښی درخواست وکی چی هغه ماته راکول سی اوزما په ملکیت کی دی، دوهم قسم یې دیوکافر څخه اخیستل سویده کمه چی زما ملکیت دی، دریم قسم حکومتی مزکه مثلاً دیوکال یازیاتو دپاره یې دزراعت دکروندی په خاطر ورکړیده؟

جواب: په اول قسم کی عشر لازم دی. لان العشر الیق بالمسلم وما اسلم اهله طوعا او فتح عنوة وقسم

---

(۱). و(۲). اخذ البغاة والسلاطین الجائرة زکوٰة الاموال الظاهرة کالسوائم والعشر والخراج لا اعادة علی اربابها ان صرف الماخوذ فی محله الاتی ذکره وان لایصرف فیه فعلیهم فیما بینهم وبین الله اعادة غیر الخارج الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکاة الغنم ج۲ ص ۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۸۸) ویظهر لی ان اهل الحرب لو غلبوا غلی بلدة من بلادنا کذالك (ردالمحتار ایضا ط. س. ج۲ ص ۲۸۸). ظفیر

بین جیشنا والبصرة ایضا باجماع الصحابة عشریة لانه الیق بالمسلم (در مختار) قوله: لانه الیق بالمسلم ای لما فیه من معنٰی العبادة رد المحتار، وفیه: ولو ان المسلم اوالذمی سقاها مرة بماء العشر ومرة بماء الخراج فالمسلم احق بالمسلم بالعشر والذی بالخراج (١) اوپه دوهم قسم کی خراج دی. او اشتری مسلم من ذمی ارض خراج یجب الخراج الخ درمختار (٢). اوپه دریم قسم کی ددغه مځکی په ماخرج کی عشر لازم دی. لانهم صرحوا بان الملك غیر شرط فیه هل سبب وجوبه الارض النامیة وشرطه ملك الخارج ای لا ملك الارض کما فی الاراضی الموقوفة کذا فی ردالمحتار (٣).

عشري اوخراجي مځکه: **سوال**: (٣٠١) څه مځکه عشری ده اوڅه مځکه خراجی ده که چیری دعشری مځکی څخه سرکار خراج واخلی نوعشر ساقطیږی اوکه نه؟

جواب: دمسلمانانو مملوکه مځکه چی دهغه حال معلوم نه دی احتیاطاً باید عشری وشمیرل سی اودهغه عشر باید ورکړی اودعشری مځکی څخه که خراج ورکول سی نو عشر نه ساقطیږی (٤).

آیاپه کمه مځکه چی خراج وی په هغه کی عشر نسته؟ **سوال**: (٣٠٢) دالفاروق دمصنف مولانا شبلی نعمانی رحمه الله دملاحظی څخه ښکاره کیږی چی په کمه مځکه باندی خراج وی په هغه عشر واجب نه دی. بینوا توجروا.

جواب: حنفی فقهاء وو داسی لیکلی دی چی دکمی مځکی څخه محصول واخیستل سی نوپه هغه کی عشر نسته (٥).

په نوی ابادی مځکه کی عشر سته اوکه نه؟ **سوال**: (٣٠٣) ددین علماء وو دهغو مځکو په هکله څه ویلی دی کمی چی اوس نوی ابادی سوی دی یا ابادی پرتی وی لکه په پنجاب ملك کی دلائل پور اوسرگودها ښار چی اباد سوه، او دمنتگمری ښار چی اوس ابادیږی چی ایاپه دی مځکو کی عشردی اوکه نه باقی دمحنت اودمشقت اوسرکاری محصول له

(١). ردالمحتار کتاب الجهاد باب العشر والخراج والجزیة ج٣ ص ٣٥١ ، ط. س. ج۴ ص ١٧٢. ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الجهاد باب العشر والخراج والجزیة ج٣ ص ٣٢۴ ، ط. س. ج۴ ص ١٩١. ظفیر

(٣). وګوری ردالمحتار کتاب الجهاد باب العشر والخراج والجزیة ج٣ ص ٣۵٢ ، ط. س. ج٢ ص ١٧٨. ظفیر

(۴). وما اسلم اهله طوعًا اوفتح عنوة وقسم بین جیشنا الخ عشر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الجهاد، باب العشر والخراج والجزیة ج٣ ص ٣۵٠). ظفیر

(۵). ولایوخذ العشر من الخارج من ارض الخراج لانهما لایجتمعان (ایضا کتاب الجهاد باب العشر والخراج والجزیة ج٣ ص ٣٢۵ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٢). ظفیر

لحاظ داپه کارده چی ترمځکی زیاته وی، ځکه چی پکارده چی دمځکی محصول څلور ۴ کناله وه په پنجاب کی اودهغو مځکو محصول ۲ کناله دی اوپه دی قیاس باندی نورهم ، زیات محنت چی څه وخت انسان دنفع حاصلولو بالکلیه نسی کولی؟

جواب: په شامی کی منقول دی. احترز عما وجد فی دار الحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر الخ (١)، ددی روایت موافق عشر لازم نه دی لیکن که چیری داسی مځکی په دار الاسلام کی وی نوعشری دی په دی کی عشر ورکول لازم دی. لهذا که چیری احتیاطاً یې ورکوی نوعشر دی ورکړی .

دزراعت عشر دنصاب په خاوند واجب دی اوکه نه په ټولو: سوال: (۳۰۴) دفصل اودکښت عشر دنصاب په خاوند واجب دی اوکه نه په ټولو اوکم فقیر چی غوښتونکی وی که چیری هغه دنصاب خاوندوی نوهغه ته عشر اوزکات ورکول درست نه دی؟

پرعشری مځکه باندی چی کمه مزدوری مصرف سوی وی ایاپه عشر کی به دهغه حساب هم کیږي؟ سوال: (۳۰۵) په عشری مځکه کی چی دکمو مزدورانو مزدوری اداء سوی وی نو ددی حساب دعشر څخه لیری سی اوکه نه؟

جواب: په عشرکی دمزدور مزدوری اودنورو اخراجاتو حساب نه کیږی یعنی دمزدورانو دمزدوری اودنورو په وجه په عشر کی کمی نه کیږی (٢) لدی کبله لسمه حصه په دی کی ورکول په کاردی، په درمختار کی دی: بلا رفع مئون ای کاف الزرع وبلا اخراج البذر لتصریحهم بالعشر فی کل الخارج (٣).

عشری مځکه دکمو څخه ده اوکمه مځکه چی یې کارګرانو ته ورکړیده په دی کی عشردی اوکه نه؟ سوال: (۳۰۶) عشری مځکه کمی ته ویل کیږی کم خلګ چی دمځکی مالکانو ته خپله برخه اداء کوی په دی خلګو باندی دکم حساب څخه په غله کی صدقه واجب ده؟

جواب: دشامی دوضاحت څخه معلومیږی چی دهندوستان مځکی عشری اوخراجی نه دی که چیری احتیاطاً عشر ورکړی نوښه ده اوکم خلګو چی دمځکی مالکانو ته خپله برخه وراداء کوی په دی کی اختلاف دی چی عشر په چا واجب دی امام صاحب رحمه الله پر دهقانانو واجب کړیدی اوصاحبینو په مستاجر باندی اوپه درمختار کی دی. وبقولهما ناخذ (٤). اوپه شامی کی هم وروسته دتفصیل اودتحقیق څخه دصاحبینو قول ته ترجیح

---

(١). ردالمحتار باب الرکاز ج٢ ص ٢١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٠. ظفیر

(٢). قال ابوحنیفة رحمه الله فی قلیل ما اخرجته الارض وکثیره العشر سواء سقی سیحا اوسقته السماء الا القصب والحطب والحشیش (هدایه باب زکوة الزروع والثمار ج٢ ص ١٨٣). ظفیر

(٣). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٦٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٨. ظفیر

ورکړیده اومفتی به اوماخوذ به یې ورته ویلی دی: حیث قال فلا ینبغی العدول عن الافتاء بقولهما فی ذلك (١).

په سری والا (ډیرانی) مځکه کی دعشر څه حکم دی؟ سوال: (٣٠٧) که چیری دغواګانو دسری لپاره دهقان څوپټې وکړی نو آیا په دی پټیو کی عشر ورکول په کاردی اوکه نه؟ بینوا وتؤجروا.

جواب: عشر په هغه پټیو کی هم دی کم چی دخارویو دسری دپاره وی اوغله یا سره په دی کی پیدا سوی وی واجب دی، که چیری مځکه بارانی وی نولسمه برخه اوکه هَرْهَډِی اوبه خور والا مځکه وی نوشلمه برخه ایستل واجب دی اوکه چیری فصل بی دانی او بغیر دپوخوالی وریبی اوپه خارو یې وخوری یعنی ګیاه په وخوری نوبیا عشر واجب نه دی (٢). فقط

(یجب العشر فی مسقی سماء ای مطر وسیح کنهر بلا شرط نصاب الی قوله الا فیما لا یقصد به استغلال الارض نحو حطب الخ درمختار باب الزکوٰة وفی الجوهرة ج١ ص ٢٨: اذا اتخذ ارضه مقصبة اومشجرة اومنبتًا للحشیش وساق الیه الماء ومنع منه الناس یجب فیه العشر الخ. جمیل الرحمٰن)

دهندوستان مځکه عشری کیدل او قاضی ثناء الله رحمه الله**: سوال:** (٣٠٨) دهندوستان مځکه عشری ده اوکه نه ده؟ قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله په ما لا بدمنه کی لیکلی دی چی عشری مځکه په دی دیار کی نسته الخ.

جواب: دا محققه نه ده چی قاضی ثناء الله صاحب رحمه الله په ما لابدمنه کی دا الفاظ چی په دی دیارکی عشری مځکه نسته الخ پرکمه بناء لیکلی دی (٣)، باقی دظاهری نصوصو اودنورو روایاتو څخه داسی معلومیږی چی دمسلمانانو په اصلی مملوکه مځکه کی عشر اصلی وظیفه ده، شاید قاضی صاحب رحمه الله پردی اساس نفی دعشر فرمایلی وی چی سرکار محصول مقرر کړیدی لهذا هغه مځکه خراجی کیږی اوپه خراجی مځکه کی

---

(٤). پوره عبارت داسی دی: والعشر علی الموجر کخراج موظف وقالا علی المستاجر کمستعیر مسلم وفی الحاوی وبقولهما ناخذ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج٢ ص٧٥ ، ط. س. ج٢ ص٣٣٤). ظ

(١). وګوری ردالمحتار باب العشر ج٢ ص ٧٥ تحت قول : وبقولهما ناخذ. ظفیر

(٢). یعنی که یې کښت دغلې دپاره کرلی ؤ لیکن دارادې په بدلولو سره یې وریبئ نو عشر واجب نه دی، اوکه داسی نه وی یعنی دسره یې دحیوانانو دخوراك دپاره کرلی وی نوبیا عشر واجب دی لکه څنګه چی دمخکنیو عبارتونو څخه ښکاره ده. ظفیر

(٣). وروسته مفتی علام ته دا خبره معلومه سویده نو ځکه یې دلته عشر واجب نه دی بللی، چی دا ملك ددار الحرب حکم لری، ددې خبری تفصیل دهغه په خپل قلم باندی مخکی تیر سو. ظفیر

عشر نه وی، لیکن اول خوږولی مځکی داسی نه وی چی پرهغه محصول مقرر وی، معافیات هم سته، شاید دقاضی صاحب رحمه الله په خوا اوپه څنګه کی معافیات نه وی، دوهم که چیری دعشری مځکی څخه خراج واخیستل سی نودهغه څخه عشرنه ساقطیږی، په هرحال احتیاط په دی کی دی چی دمسلمانانو په مملوکه مځکه کی دتشریح موافق مولانا اشرف علی تهانوی صاحب رحمه الله دالقاسم په پرچه کی عشرته واجب ویلی دی.

عشر پرپیداوار باندی کیږی کله چی مځکه عشری وی څه غله وغیره چی پیدا سوی وی اولاس ته راسی نوپه دی وخت کی عشر لازم دی حولان حول شرط نه دی داوبو محصول نصف عشر (یعنی شلمه حصه) نه کیږی عشر (لسمه برخه) واجب دی څه رکم چی عموما دفقهی روایات پردی باندی دلالت کوونکی دی. وتجب فی مسقی سماء ای مطر وسیح ای نهر الخ درمختار. فقط

(قال الشامی قد صرحوا بأن فرضية العشر ثابتة بالكتاب والسنة والاجماع والمعقول، وبأنه زكاة الثمار والزروع، (الىٰ ان قال) لعموم قوله تعالى: (أنفقوا من طيبات ما كسبتم ومما أخرجنا لكم من الارض) ، (سورة البقرة: الآية ٧٦٢) وقوله تعالى: (وآتوا حقه يوم حصاده) ، (سورة الانعام: الآية ١٤١) وقوله (ﷺ): ما سقت السماء ففيه العشر، وما سقي بغرب أو دالية ففيه نصف العشر شامی ج٣ ص ٣٥٣. ظفیر).

ددی ځای په مځکو کی عشر دی اوکه نه؟ سوال: (٣٠٩) زموږ په مځکو کی عشر سته او که نه؟ که چیری وی نوانګریزان چی زموږ څخه کمی څلور آنی دیوکنال اخلی دیته خراج ویل کیږی اوکه څه؟ اوکه بل څه ورته ویل کیږی نوپه کمه وجه سره؟ اودوهم داچی دعشر دپاره که دمځکی عشری کیدل شرط وی چی کم اسلامی بادشاه عشر ایښی وی نو هغه عشری ده، نودهند او پنجاب دمزکو دڅه تاریخ څخه معلومه نه ده چی فلانی بادشاه دلته عشر ایښی دی خصوصًا جهانګیر اواکبر بادشاه یاکم چی تیر سویدی، دریم داچی دار الحرب وی یادار الاسلام وی نوپه کمو شرطونو سره دار الاسلام دی؟ غرض داچی دلته بعضی علماء ددی خبری قائل دی چی دلته هیچیری عشر نسته اوبعض دعشر قائل دی اوس ستا څه رایه ده؟

جواب: په درمختار کی دی. ما اسلم اهله طوعًا اوفتح عنوة وقسم بين جيشنا الخ عشرية لانه اليق بالمسلم وفی ردالمحتار ولوقال بيننا لشمل ما اذا قسم بين المسلمين غير الغانمين فانه عشرى لان الخراج لا يوظف على المسلم ابتداء قهستانى درمنتقى، شامی جلد ٣ ص ٣٥١) وفيه اى الدر المختار ولوترك اى السلطان العشر لايجوز اجماعًا ويخرجه بنفسه للفقراء. درمختار ([1]). وفی الشامی: وذكره فی الزكوٰة لانه منها قال فی الفتح قيل ان

تسمية زكوٰة على قولهما لاشتراطهما النصاب والبقاء بخلاف قوله وليس بشيئ اذلاشك انه زكوٰة حتٰى يصرف مصارفها واختلافهم فى اثبات بعض شروط لبعض انواع الزكوٰة ونفيها لايخرجه عن كونه زكوٰة الخ. شامى باب العشر ج۲ ص ۹٦٥. ظفير

ددى عبارت څخه څو امور معلوميږى، يوداچى دمسلمانانو په مځكه كى اصل وظيفه عشر دى، دوهم داچى بادشاه عشرنه وى اخيستى نو عشرنه ساقطيږى بلكى پخپله دمځكى مالك ته عشر ايستل پكاردى اوفقيرانو ته يې وركول په كاردى.

دريم داچى عشر هم زكات دى نو كله چى اصل وظيفه دمسلمان عشردى نوكمه مځكه چى دمسلمانانو په ملكيت كى ده نويا هغه اصلاً عشرى ده چى دمسلمانانو بادشاهانو هغه فتح كړى وى اومسلمانانو ته يې وركړى وى يادهغه حال دمځكى څخه معلوم نه وى په دى دواړو صورتونو كى عشر لازم دى، كه چيرى په حقيقت كى په يو مځكه كى عشر مقررول پكاروى، داسلام بادشاه يابل څوك چى عشر مقرر نه كړى نوپه دى سره عشر نه ساقطيږى اوهغه مځكه دعشرى كيدلو څخه خارجيږى، اوكله چى عشر په مرتبه دزكات دى، نوڅه ركم چى دزكوٰة مالونه په هرځاى واجب دى اسلامى ملك وى اوكه غير اسلامى ملك، نوپه دى طريقه عشرهم په هرځاى واجب دى اوواضحه دى وى چى كه چيرى دعشر دمځكى څخه خراج واخيستل سى نوبيا هم عندالله عشر نه ساقطيږى، لدى وجه څخه دمځكى خاوند به عشر باسى، اوفقيرانو ته يې وركول په كاردى، حاصل دا چى احتياط دادى چى مسلمان دخپلى مځكى په حاصل اوپيداوار كى عشر اداء كړى (١). فقط

<u>دهغه مځكى چى ټيكس وركول كيږى په هغه كى عشر</u>: **سوال**: (۳۱۰) كمه مځكه چى په ملكيت كى سوه او دخرڅولو اختيار يې وى درياست مشرانو ته خراج وركول كيږى او مځكه په آسمانى اوبو خړوبه كيږى، نوپه دى باندى عشردى اوكه نه؟

جواب: عشر لازم دى (٢). فقط

---

(١). [از صفحه سابقه١٢١] الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العشر والخراج والجزية ج۳ ص ۳۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۱۷۲. ظفير

(٢). احقر جميل الرحمٰن مرتب غفرله عرض كوى چى مملوكه مځكى دمالكانو چى دحكومت دقبضى په شكل كى دى هم دفقهيه عباراتو څخه يې وجوب دعشر معلوميږى، فى الشامى قدر صرحوا (الى ان قال) وبان الملك غير شرط فيه بل الشرط ملك الخارج (شامى ج۳ ص ۳۵۲ ، ط. س. ج۲ ص ۱۷۸) يعنى دعشر دوجوب دپاره دپيداوار دملك اعتبار دى والعشر على الموجر كخراج موظف وقالا على المستاجر وفى الحاوى وبقولهما ناخذ (شامى ج ۲ ص ۷۵ ، ط. س. ج ۲ ص ۳۳۴). جميل الرحمٰن [باقى]

دعشري مځکي تعريف: **سوال**: (۳۱۱\۱۱) عشري مځکه څه ته ويل کيږي اوپه دي کي کم کم شرطونه دي؟

خراجي مځکه: **سوال**: (۳۱۲\۱۲) خراجي مځکه څه ته وايې اوددې څه شرطونه دي؟

دهندوستان دمځکي حکم: **سوال**: (۳۱۳\۱۳) دهندوستان مځکي په موجوده حالت کي عشري دي اوکه خراجي؟ کله چي دبرطانيي دحکومت دغدر څخه وروسته دسلطنت اختيار يې په خپله قبضه اوقدرت کي راوستی نواوس په دې وخت کي عام اعلان يې وکی چي ټولي مځکي ضبط کړې او دهيچا حق نسته، که چيری دمځکو خاوند دعوٰی وکړي چي ثبوت راوړي نوده ته به دحاکم دفيصلي مطابق ورکول سی، څنګه چي کم مالکان دمزکي دعوی وکړي او شاهدان قائم کړي نو هغوی ته هغه مځکه يا دهغه په عوض کي بله مځکه ورکول کيږي اوبعضو ته ديو امر ياکار په بدله کي مځکه ورکړې وي اوسرکاري برخه چي سالانه دمځکي دمالکانو څخه دوخت بادشاه اخيستی وي مقرر کړي اوبعضی يې معاف کړي وي.

عشر په کرونکي دي اوکه دمځکي په مالک باندي؟ **سوال**: (۳۱۳\۱۴) عشر يانصف عشر په هغه وخت کي چي واجب سی، دمزکي پرمالك باندی دی اوکه نه په کرونکي باندی دی؟ کرونکي هغه دي چي دمځکي ټول خدمت کوي اودمزکي مالك دده څخه نيمايي يادريمه برخه دپيداوار دشرطونو په حيثيت سره دپيداوار دجنس څخه يا دغير جنس څخه اخلي او سرکاري مال ګذاري (برخه) دمځکي مالك اداء کوي؟

دکمي مځکي مال ګذاري چي ورکوي: **سوال**: (۳۱۴\۱۵) دکمي مځکي مال ګذاري چي اداء کيږي هغه خراجي ده اوکه عشري؟

دمال ګذاري څخه دمعاف مځکي عشر: **سوال**: (۳۱۵\۱۶) دکمي مځکي چي مال ګذاري معاف وي ددي دوه قسمونه دي اوهغه مځکي چي دکمي دوهمي مځکي په عوض کي وي يعني ددي مځکي مال ګذاري په بله مځکه کي حسابيږي، دوهم هغه مځکي چي دکم کار په بدله کي يا دجائيداد په عوض ورکړي وي نوپه دي دواړو قسمو مځکو معاف سوي مال ګذاري خراجي کيږي اوکه عشري؟

دعشري مځکي مختلف حيثيت: **سوال**: (۳۱۶\۱۷) په کم کلي کي چي دبعض برخي مځکي پيداوار يوازي په آسماني (باراني) اوبو باندي وي اوددي اوبه خور نه کيږي اودبعضو برخو اوبه خور په کوهيانو اوتالابونو اوداسی نورو سره وي اودبعضی مځکو پيداوار په باران او اوبه خور دواړو نه وي يعني يوازي په باران باندي په اکتفاء کولو سره پيداوار کموي که چيري په هغه کي اوبه خور ورکول سي نوپيداوار زياتوي؟ اوداسي

هم سته چی کمی مځکی ته اوبه خور ورکړی، دباران په کیدلو سره اوبه خورته ضرورت نه وی نوپه دی ټولو صورتونو کی بالفرض په وجوب دعشر سره عشر واجبیږی اوکه نه نصف عشر؟

جواب: ۱\۱: فی الدرالمختار ما اسلم اهله طوعًا اوفتح عنوةً وقسم بین جیشنا والبصرة عشریة (۱) نو داسی مځکی عشری دی ترڅو چی په مینځ کی دغیر مسلم ملکیت متخلل سوی نه وی۔

۲\۱: په دی کی هم تفصیل دی دمقام سره مناسب یوقسم داهم دی چی کم وخت غیر مسلم ددی مالك سی۔

۳\۱: دضبطولو دوی معنیٰ ګانی دی، یوه مالکانه قبضه وی که چیری دا وی نو بیا هغه مځکه عشری نه پاته کیږی. اودوهمه قبضه مالکانه اوحاکمانه اومنتظرانه، او داحقر په نزد دقرائنو څخه دې ته ترجیح ده که څه هم داسی وی نوعشری مځکه پرخپل حال عشری پاته وی البته که چیری داول څخه هغه مځکی عشری نه وی یاسرکار کمه دوهمه مځکه ددی مځکی په عوض کی ورکړی وی یا چا ورلره یوه مځکه په بدلی کی ورکړی وی، چونکه هغه دورکولو څخه مځکی په استیلاء سره دسرکار په ملکیت کی وه نولهذا هغه عشری نه پاته کیږی۔

۴\۱: والعشر علی الموجر کخراج موظف وقالا علی المستاجر کمستعیر مسلم وفی الحاوی وبقولهما ناخذ وفی المزارعة ان کان البذر من رب الارض فعلیه ولو من العامل فعلیهما بالحصة (درمختار (۲)) ددی روایت څخه معلومه سوه چی که چیری مځکه پر کرایه باندی وی نوپه مفتیٰ به قول باندی پرکرونکی باندی، اوکه چیری په تقسیم باندی وی اوتخم هم دکرونکی وی نودمځکی دمالك او دکرونکی دواړو دخپلو خپلو برخو په اندازه دی۔

۵\۱: په مال ګذاری باندی ددی څه مدار نسته که کمه مځکه عشری وی اوپه هغه باندی مال ګذاری مقرر کړی نوهغه به بیا هم عشری به وی۔

۶\۱: ددی جواب هم دپنځم لمبر جواب په شان دی۔

---

(۲). اخذ البغاة والسلاطین الجائرة زکوٰة الاموال کالسوائم والعشر والخراج لا اعادة علی اربابها ان صرف الماخوذ فی محله الاتی ذکره وان لایصرف فیه فعلیهم فیما بینهم وبین الله اعادة غیر الخارج الخ (درمختار) ویظهر لی ان اهل الحرب لو غلبوا علی بلدة من بلادنا کذالك (ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج۲ ص ۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۸۸). ظفیر

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر والخراج والجزیة ج۳ ص ۳۵ ، ط. س. ج۲ ص ۱۷۲. ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج۲ ص ۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۴. ظفیر

٧\: ويجب اى العشر فى مسقى سماء او سيح كنهر (الیٰ قوله) و يجب نصفه في مسقي غرب أي دلو كبير ودالية أي دولاب لكثرة المؤنة، وفي كتب الشافعية: أو سقاه بماء اشتراه وقواعدنا لا تأباه، ولو سقى سيحا وبآلة اعتبر الغالب ولو استويا فنصفه وقيل ثلاثة أرباعه ([1]) (درمختار) قلت واختلف الترجيح والاحتياط فى الثانى.

ددى څخه معلومه سوه چې په بارانى مځكه كى عشر سته اوپه خور ، كوهى، اوتالاب كى نيم عشردى، په كمه مځكه كى چى اوبه خور په دواړو ډولو سره وى په هغه كى غالب لره اعتباردى اوكه دواړه برابروى نوپه نيم پيداوار كى عشر اوپه نيم نور كى نيم عشر دى. فقط

دكافر څخه په بيعه داخيستل سوى مځكى عشر: **سوال**: (٣١٧) كمه مځكه چى دكم كافر څخه اخيستل سوى وى په دى كى عشر سته اوكه نسته؟

په ميووكى عشر: **سوال**: (٣١٨\٢) دباغ په ميوو اوپه لرګو كى عشر واجب دى اوكه نه؟

په كرايه كى عشر: **سوال**: (٣١٩\٣) دسكونت دځاى په كرايه كى عشر واجب دى اوكه نه؟

دجائيداد په حق دمدرسى عشر: **سوال**: (٣٢٠\۴) پر كم جائيداد چى سركارى حق نسته بلكى دحق په لاروكى، ډاكخانه، شفاخانه، مدرسه، سرك، قائم وى نو دا اخراجات به په داخل دعشر كى وى اوكه نه؟ اوعشر به پكښى دهمدى څخه وى اوكه نه؟

جواب: ١\: په دى صورة كى هغه مځكه به خراجي وى عشر نه لازميږى. قال فى الشامى فصار شراء المسلم من الذمى بعد ما صارت خراجية فتبقى على حالها الخ. شامى ([2]) ج ٢.

٢\: دباغ په ميوه كى عشر واجب دى اوپه لرګو كى نسته ([3]). ٣\: نسته.

۴\: داحقوق به ددى څخه نه وى بلكى دټول پيداوار عشر به واجب وى. فقط

اووم باب

دزكات مصارف

دمسكين تعريف: **سوال**: (١\٣١) مسكين چاته ويل كيږى؟

جواب: كم سړى چى دنصاب مالك نه وى اوهغه محتاج وى فقير اومسكين ورته ويل كيږى او دفقهى په كتابونو كى ددى پوره تفصيل ذكر سويدى. ([4])

([1]). الدر المختار باب العشر ج٢ ص ١٣٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٢ و٣٢٨. ظفير

([2]). ردالمحتار ج٢ ص ٧١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩. ظفير

([3]). قال ابوحنيفة رحمه الله فى قليل ما اخرجته الارض وكثيره العشر سواء سقى سيحًا اوسقته السماء الا القصب والحطب والحشيش (هدايه ج١ ص ١٨٣). ظفير

([4]). والمسكين من لاشيئ له على المذهب لقوله تعالى اومسكينا ذا متربه، واية السفينة للترجم (درمختار) =

دزكات خاوند چي كله اجازه وكړي نو بيا ورڅخه داجازې غوښتلو ضرورت نسته: **سوال**: (۳۱۲) زه چې دلته دچا مزدور يم هغه زكات ايستلی او داي ويلي دي چې ته ورڅخه دری روپی پخپله واخله، نوزه يې اوس ورڅخه واخلم دوباره اجازې غوښتلو ته ضرورت سته اوكه نه؟

جواب: كله چې ده يعنی مالك يې اجازه وركړې وی نو اخيستل درست دی دزكاة په نيت يې واخله اوپه خپله چاره كی يې ولګوه (۱). فقط

آيا دزكات روپی په تجارت كی لګول كيدی سی؟ **سوال**: (۳۱۳\۱) آيا دزكوٰة روپی په تجارت كی لګول كيدی سی اودهغه چې كمه ګټه ده هغه په ذاتی كاركی مصرفولی سی كله چې اصل يې مامون اومحفوظ وی؟

دموجوده روپو څخه به زكات وركوی اوكه دنورو روپو څخه يې هم وركولی سی؟ **سوال**: (۲\۳۱۴) دزيد سره دوه سوه روپی دی، آيا ددی دوه سوه دجملې څخه زكوٰة وركول په كار دی اوكه نه زيد به دا اصلی روپی دځان سره ساتی اودجلا نورو روپو څخه به يې انتظام كوی دقرضی اويا نورو روپو څخه پنځه روپی زكوٰة به وركوی؟

جواب: ۱\: په دی صورة كی زكوٰة نه اداء كيږی دزكات دروپو به داسی مسلمان مالك جوړوی كم چې دنصاب مالك نه وی اوسيد هم نه وی داشيان پكښی ضروری (۲) دی.

۲\: دا اختيار دده دی چې ددی دوه سوه روپو څخه زكات وركوی اوكه عليحده نوری روپی وی دده سره نو دهغه څخه دی وركړي، خوكه دده سره كه چيری ددوو سوو څخه زياتی روپی وی نو دهغه زياتی روپو څخه به هم زكوٰة اداء كوی اوقرض كولو ته يې ضرورت نسته مطلب نتيجه داده چې هرڅومره روپی دده سره وی دهغه دزكات حساب به وكړی اوپه همدی روپو كی به يې وركړی. (۳) فقط

= قوله المذهب من انه اسوا حالا من الفقير وقيد على العكس والاول اصح بحر وهو قول عامة السلف اسمٰعيل وافهم بالعطف انهما صنفان وهوقول الامام وقال الثانی واحد (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۰ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹) ددې څخه معلومه سوه چې په اصطلاح كی مسكين هغه چاته ويل كيږی چې دهغه سره هيڅ نه وی، بالكل بد حاله وی، اوكم څوك چې خاوند دنصاب نه وی مګر دخوراك او چيښاك دپاره څه لری نو په اصطلاح كی هغه ته فقير ويل كيږی، فقير وهو من له ادنی شيئ ای دون نصاب (ايضاً) دپښتو په محاوره كی مسكين او فقير دواړه په يوه معنی ويل كيږی يعنی كم څوك چې مستحق دزكاة وی. ظفير

(۱). وللوكيل ان يدفع لولده الفقير وزوجة لا لنفسه الا اذا قال ربها ضعها حيث شئت (الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج۲ ص ۱۴ وص ۱۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۶۹). ظفير

(۲) ويشترط ان يكون الصرف تمليكا لاباحة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴). ظفير

(۳). واللازم فی مضروب كل منهما ومعموله ولوتبرا الخ وفی عرض تجارة قيمة نصاب الخ ربع عشر (ايضا باب =

دزکات په روپو چې جامې ورکړې ددې څه حکم دی؟ **سوال:** (٣١٥) دزکوٰۃ په روپو چې دمستحقینو دپاره جامې جوړې کړې نوجائزدی اوکه نه نغدی ورکول یې ضروری دی؟

جواب: دزکات په روپو چې کم مستحق ته جامې جوړې سی نو داهم درست اوصحیح ده.

چاته چې دزکات روپې دتقسیمولو دپاره ورکول سی هغه یې خپلی بیچاره ښځې ته ورکولی سی اوکه نه؟ **سوال:** (٣١٦) زید عمرته دزکات روپې ورکړې چې داپه مستحقینو باندی تقسیم کړه عمر پخپله دنصاب خاوند دی مګر ښځه یې مسکینه ده نوعمر خپلی ښځې ته دزید دزکات څخه څه ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی عمر خپلی ښځې ته دزکات روپې ورکولی سی ([١]).

خوابنې ته زکوٰۃ ورکول درست دي اوکه نه؟ **سوال:** (٣١٧) خوابنې ته زکات ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: کله چې هغه دنصاب خاونده نه وی نو زکوٰۃ ورکول ورته جائز اودرست دی مګر هغه به بالکل مالکه جوړه کړې څنګه یې چې خوښه وی هغسې دی ولګوی ([٢]).

بغیر دزکات دنوم څخه چې دزکات روپې ورکول سی زکات اداء کیږي اوکه نه؟ **سوال:** (٣١٨) که چیری خپلوانو ته روپې دزکات په نوم ورکوی نوشرمیږی هغه ته که په دی طریقه زکوٰۃ ورکول سی چې ورته وویل سی چې په دی روپو باندی ټوکر واخله اوبچیانو ته ورڅخه جامې جوړې کړه، داسی کول درست دی اوکه نه؟

جواب: دغسې کول درست اوصحیح دی اوزکات اداء کیږی په خپل زړه کی دزکات نیت کول کافی دی هرچاته چې یې ورکوی ښکاره کول یې ضروری نه دی ([٣]). فقط

مسکین ته چې نغدی روپې ورنه کړې اودسفر ټکټ ورته واخلی نوزکات اداء کیږی اوکه نه؟

سوال: (٣١٩) یومالدار سړی زکوٰۃ په دی توګه مسکینانوته چې مسافردی ورکوی، دکم ځای څخه چې دمسکینانو مسافرو تګ وی خپل سړی ورسره دموټراډې ته لیږی اودسفر ټکټ ورته اخلی اودهغه په لاس کی نغدی روپې نه ایږدی، که چیری مسافر په څه عذر پاته سی او ولاړ نه سی او ټکټ ردی او زائد سی دزکات دخاوند مالدار سړی زکوٰۃ اداء

باب زکوٰۃ المال ج٢ ص ٤١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٧ و٣٩٨). ظفیر

([١]). وللوکیل ان یدفع لولده الفقیر وزوجته لالنفسه الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج٢ ص ١٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٩). ظفیر

([٢]). ولا الی من بینهما ولاد (درمختار) وقید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب کالاخوة والاعمام والاخوال الخ (رد المحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٢ ، ط. س. ج٢ ص ٧٤٢). ظفیر

([٣]). ولا یجوز اداء الزکوٰۃ الابنیة مقارنة للاداء اومقارنة لعزل مقدار الرجب الخ (ایضا ج١ ص ١٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧٠). ظفیر

سو اوكه نه؟

جواب: دغه مالدار سړی چی کله دمسکین په اجازه باندی ټکټ اخلی نودغه سړی دزکات په قبض کولوکی دمسکین وکیل اونائب ګرځی، لکه څنګه چی همدا سړی دمالداره دطرف څخه وکیل دی اوهم نائب دی لهذا دمالداره سړی زکات په دی صورت کی اداء کیږی اوبیا چی مسافر په څه وجه اوعذر باندی ولاړ نسی اوټکټ ضائع سی نو بیا هم زکات یې اداء کیږی ([1]). فقط

په مدرسه کی په کم بخش اوپه څه توګه زکوٰة ولګول سی: سوال: (۳۲۰) که چیری دمدرسی حالت مخ پرتنزل وی نوپه دی کی زکوٰة ورکول په کمه توګه اوپه کم مد کی درست دی؟

جواب: په دغسی صورت کی به دتمليك حيله وکړی دزکات روپی چی په هرمدکی لګوی نو لګولی یې سی او دتمليك حيله دا ده چی دزکات روپی به دداسی يو چا ملکيت وګرځوی چی دنصاب مالك نه وی بیابه یې دهغه دطرف څخه دزکات په مصارفو کی ولګوی ([2]).

دپلار په ژوند چی څه دميراث په طور تر لاسه سی دا دزکات مانع جوړيږی اوكه نه؟ سوال: (۳۲۱) دپلار په ژوند چی کم شيان دميراث په توګه راته راکول سی هغه دزکات مانع دی اوكه نه؟

جواب: دپلار په ژوندکی دده اولاد دده دمال مالکان نه دی لهذا دا دزکات داخيستلو مانع دی او دبالغه اولادونو دپاره نه دی. فقط

دزکات په روپو چی کتابونه واخيستل سی او بيا يې دخپلی مطالعی دپاره وساتی ددی څه حکم دی؟ سوال: (۳۲۲\۱) دزکات په روپو چی کتابونه واخلی او دمسائلو دليدلو دپاره یې دځان سره وساتی په دی سره زکات ادا کیږی اوكه نه؟

دزکات په روپو چی کتابونه واخلی او دمطالعی عامه اجازه ورکړی او مالک کوی يې نه نو ددی څه حکم دی؟ سوال: (۳۲۳\۲) که چیری دزکات په روپوکتابونه واخيستل سی اوپه خپل ملك کی یې وساتی، چاته چی ضرورت وی ليدلی او ويلی یې سی مګر دهيچا دوړلو دپاره داسی اجازه نسته چی هغه یې مالك جوړ سی نوپه دی حالت کی زکات اداء

([1]). الا اذا وكله الفقراء (درمختار) لانه كلما قبض شيئا ملكوه (ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج۲ ص ۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۹). ظفير

([2]). حيلة التكفين بها التصدق على فقير ثم هو يكفن فيكون الثواب لهما وكذافى تعمير السجد (ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج ۷ ص ۲۷۱). ظفير

کیږی اوکه نه؟

جواب: ۱\ : په دی صورت کی زکات نه اداء کیږی. ([1])

۲\ : په دی صورت کی هم زکات نه اداء کیږی. ([2])

دزکات روپی چی په بانک کی کښیږدی اودضرورت په وخت یې لګوی ددی څه حکم دی؟

سوال: (۳۲۴\۱) یوسړی ته زکات دچندی په توګه حاصلیږی اوداسړی داروپی په بانك دامانت په توګه ساتی، اوبیا وخت په وخت دغه روپی را اخلی اودزکات په مصارفو کی یې لګوی اوداهم معلومه ده چی په بانك کی ټولی روپی سره خلط اویو ځای کیږی نوپه دی صورة کی زکات اداء کیږی اوکه نه؟

حیله چی وکړی او دزکات روپی په تبلیغ کی لګول څنګه دی؟ **سوال**: (۳۲۵\۲) ځینی حضرات دتبلیغ دپاره روپی ورکوی اودا وایې چی حیله به کوی په تملیك کی داخیستلو او ورکولو والا ښه پوهیږی چی تملیك مقصود نه وی نو آیا په داسی حیله باندی زکات هم اداء کیږی اوهغه روپی ددی غرض دپاره هم جائزدی اوکه نه؟

جواب: ۱\ : په دی کی ددی ضرورت دحیلی دتملیك څخه وروسته که چیری داخلی سی نو زکات اداء کیږی ([3]).

۲\ : داحیله فقهاوو لیکلی ده اودا شرعًا جائزده، اودغه امور کم چی تاسی لیکلی دی، ددی حیلی مانع نه دی یعنی دهغو ټولو خیالاتو باوجود داحیله صحیح ده اودغه حیله کول ضروری دی چی ترڅو دزکات ورکولو والا زکات فوراً ادا سی بیا دمهتمم او دنورو منتظمینو اختیار دی چی کم ځای دمصرف مناسب ګڼی هلته به یې ولګوی. ([4])

په زکات کی چی کمی روپی واجبی وی دهغه په بدل کی چی کتابونه تقسیم کړی ددی څه حکم دی؟ **سوال**: (۳۲۲) زه تجارت کسب سړی یم په کال کی چی دزکات کمی روپی ایستل سوی دی، ددی پرځای می کتابونه طالب علمانو ته ورکړی نوزکات می ادا کیږی

([1])، و([2]). وشرط صحة ادائها نية مقارنة له اى لاداء الخ ولايخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج۲ ص ۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۸)، ومصرف الزكوٰة الخ هو الفقير وهو من له ادنٰى شيئ اى دون نصاب الخ ويشترط ان يكون الصرف تمليكا (باب المصرف ج۲ ص۷۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹). ظ

([3]). ځکه چی دا روپی اوس په زکات کی پاتی نه دی، بلکه دیومعین شخص په ملك کی داخلی دی، زکات مخکی لا دحیلې پر وخت ادا سویدی، والله أعلم. ظفیر

([4]). دحیلې دمسائلو حواله څو ځله ورکړل سوه، دحیلې بنسټ دادی چی قانونی او اصولی لاره خپله کړل سی، مثلا دزکات مصرف فقیر اومستحق دی، او هغه چی کله زکات واخلی نوهغه دمالك په حیثیت چی څه کوی هغه کولای سی، دا ځانته بیله خبره ده چی حیله خامخا کول لائق نه دی، ځکه دزکات مصارف متعین دی، له حیلې وروسته چی کم اصل مستحقین دی هغوی عملاً محروم پاته کیږی، ځکه نو دحیلې صورت دډیری مجبوری په وخت کی اختیارول ښایی نه بل وخت، والله اعلم. ظفیر

اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی دکتابونو دقیمت اندازه ولګول سی دکتابونو ورکول په زکات کی درست دی په دی توګه زکات اداء کیږی اوپه دی کی هیڅ قسم نقص نه راځی (۱). فقط

که داخیستلو والا خبر نه وی نوزکات اداء کیږی اوکه نه؟ سوال: (۳۲۷) په مدارسو کی دزکات دروپو څخه چنده ورکول کیږی او دورکولو والا وایې چی موږ دزکات روپی درکوو، مګر داخیستلو والا نه پوهیږی چی داځنګه روپی دی، په دی کی زکات اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: ددغه رکم خلګو روپی ورکول په مدرسه کی درست دی مګر داخیستلو والا ته په کار دی چی په داسی توګه روپی ولګوی چی دورکولو والا زکات اداء سی. (۲)

دزکات دروپو څخه طالب علمانو ته کتابونه ورکول څنګه دی؟ سوال: (۳۲۸) دزکات په روپو کتابونه اخیستل اوطالب علمانوته ورکول درست دی اوکه نه؟

جواب: جائز دی (۳). فقط

دزکات غله دانه خرڅول اوجامې وربا ندی اخیستل درست دی: **سوال**: (۳۲۹) که چیری دزکات غله دانه خرڅه سی اوپه یو مسکین باندی یوڅه وخوړل سی اویا ورته جامې باندی جوړی سی نودا درست کار دی اوکه نه؟

جواب: هو! دا درست کار دی (۴). فقط

دزبیده دنهر په صفایی باندی دزکات روپی لګول درست نه دی: **سوال**: (۳۳۰) دزبیدی دنهر په صفایی کی که چیری دزکات روپی ولګول سی نوزکات ادا کیږی اوکه نه؟

جواب: دزکات داداء کولو دپاره داشرط دی چی یو محتاج ته به یې ورکوی هغه به یې مالك جوړ کړی، دهمدی وجه څخه فقهاوو لیکلی دی چی دجومات په جوړولو باندی دزکات دروپو لګول درست اوصحیح نه دی نودنهرپه صفایې کی دزکات دروپو په لګولو

(۱). وجاز دفع القیمة فی زکوٰة وعشر وخراج وفطرة ونذر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج۲ ص ۲۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۸۵). ظفیر

(۲). وشرط صحة ادائها نیة مقارنة للاداء الخ اونوی عند الدفع للوکیل ثم دفع الوکیل بلانیة اومقارنة بعزل ما وجب کله اوبعضه (الدر المختار علی هامش ردالمحتارکتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۸). ظفیر

(۳). یصرف المزکی الی کلهم اوالی بعضهم الخ تملیکا لا اباحة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۳ ، ط. س. ج۲ ص۲۴۴). ظفیر

(۴). وجاز دفع القیمة فی زکوٰة وعشر وخراج (ایضا کتاب الزکوٰة باب الغنم ج۲ ص ۲۹ ، ط. س. ج۲ ص ۲۸۵). ظفیر

سره زکوٰة نه اداء کیږی (١). فقط

دزکات په روپو دمدرسی جوړول درست نه دي: **سوال**: (٣٣١) دزکات په روپو مدرسه جوړیدی سی اوکه نه؟

جواب: دزکات په روپو مدرسه یاجومات جوړول درست نه دی ځکه چی په زکات کی دفقیرانو تملیك شرط دی، فقیران چی دزکات مالك نسی نوزکات نه اداء کیږی (٢)، هکذا فی کتب الفقه، والحیلة (٣) لمثل هذه الافعال مذکورة فی الدرالمختار وغیره.

دزکات مصارف: **سوال**: (٣٣٢\١) دیوه سړی کلنی امدنی لس منه غله ده اوسل روپی نغدی راځی اودا سړی دوه ورونه اوخوندی دخوراك والا لری او امدنی کله وصولیږی او کله نه وصولیږی نو آیا داسړی زکات اخیستی سی؟

دآمدنی والا زکات: **سوال**: (٢\ ٣٣٣) دیوه سړی امدنی پنځوس یاشپیته روپی دی نو دا سړی هم زکات اخیستی سی؟

جواب: ١\ : هو! اخیستی یې سی (٤). فقط

٢\ : په دی صورت کی دی غنی دی اخیستی یې نسی (٥).

بغیر دویلو څخه دزکات روپی ورکول څنګه دي؟ **سوال**: (٣٣٤\١) څه رکم چی زید غنی دی اوزکات اداء کوی لهذا که چیری زید خپل دکاکا زوی اولور ته چی مفلس اومحتاج دی زکات ورکړی، اوهغوی ته یې ونه ویل چی دازکات دی ځکه چی که چیری دوی خبر سی نوخفه به سی په دغسی صورت کی که چیری زید دوی ته زکات ورکړی اوورته ونه وایې چی دا دزکات روپی دی نودزکات په اداء کیدو کی خوبه کمه خبره نه وی؟

دصله رحمي ثواب به ور کول کیږي او که نه؟ **سوال**: (٣٣٥\٢) او ددی زکات ورکولو څخه علاوه چی فرض یې اداء سی دصله رحمی ثواب به هم ورکول کیږی اوکه نه؟

---

(١). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة الخ لایصرف الی بناء نحو مسجد ولا الی کفن میت (ایضا باب المصرف ج٢ ص٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٤). ظفیر

(٢). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة کمامر، لایصرف الی بناء مسجد ونحوها ولاالی کفن میت الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٤). ظفیر

(٣). وحیلة التکفین بها التصدق علی فقیر ثم هویکفن فیکون الثواب لهما وفی تعمیر المسجد وتمامه فی حیل الاشباه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج ٢ ص٢٧١). ظفیر

(٤). مصرف الزکوٰة الخ فقیر الخ ای دون نصاب اوقدر نصاب غیر نام مستغرق فی الحاجة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج٢ ص ٧٩ و ٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفیر

(٥). ولا الی غنی یملك قدر نصاب فارغ عن حاجة الاصلیة (ایضا ج٢ ص ٨٨ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٧). دیادونی ورده چی دا دکال ١٣٣٢هـ ق خبره ده، نن وخت دڅلویښتو پنځوسو روپو والاسړی غنی نه دی. والله اعلم. ظفیر

ورته دنه ویلو مواخذه سته اوکه نه؟ سوال: (٣٣٦\٣) چونکی زید هغه ته دزکات خبرنه دی ورکړی او دقرینی څخه پوهیږی چی که چیری ورته معلومه سی نوبیا به یې وانه اخلی او یابه خفګان ښکاره کړی ددی دوجی څخه پرزید مواخذه سته اوکه نه؟ زید چونکی ده ته دزکات ورکولو څخه رواجًا شرمیږی اودصله رحمی څخه تبنتی په زید باندی شرعًا مواخذه اویا کم از کم ملامتیا سته اوکه نه؟

جواب: \١: دزکات داداء کیدلو دپاره داشرط دی چی دورکولو والا نیت دزکات وی او چی چاته یې چی ورکوی هغه محل اومصرف دزکات وی داشرط نه ده چی ده ته دی دزکات خبرهم ورکړی نو که چیری دزید خپل ترونه اویا دتره زامن محتاج او مصرف دزکات وی وردی کړی اوده ته دی دانه ښکاره کوی چی دازکات دی نوزکات اداء کیږی.

وشرط صحة ادائها نية مقارنة للاداء، درمختار. قوله نية الخ اشار الى انه لا اعتبار للتسمية فلو سماها هبة اوقرض تجزيه فى الاصح الخ شامى (١).

\٢: دصله رحمی ثواب هم ورکول کیږی، کما جاء فی الحدیث قال رسول الله ﷺ الصدقة علی المسکین صدقة وهی علی ذی الرحم ثنتان صدقة وصلة رواه احمد والترمذی وغیرهما (مشکوٰة باب افضل الصدقة ص ١٧١). ظفیر

\٣: هیڅ مواخذه نسته.

\۴: هیڅ مواخذه اوملامتیاورباندی نسته بلکی دمخکی حدیث څخه ښکاره سوه چی صله رحمی هم ده اوزکات یې هم اداکیږی اودوه چنده ثواب به ورکړل سی.

چاته چی سوال کول حرام وی هغه ته زکات ورکول څنګه دی؟ سوال: (٣٣٧) په هغه سړی چی شرعا ورته سوال کول حرام وی هغه ته زکات ورکول څنګه دی؟

دقربانی دڅرمنی حکم: سوال: (٣٣٨) دقربانی دڅرمنی حکم دفرضی صدقاتو حکم لری او که دنفلی؟

جواب: \١: ویاثم معطیه ان علم بحاله لاعانته علی المحرم (٢) په درمختار اوپه شامی کی دشرح مشارق څخه دا رانقل سوی دی چی قیاس دادی چی ورکولو والا ګنهګاریږی لیکن هغه پرغنی باندی دهبی خیال وکی نو دورکولو والا نه ګنهګاریږی بیاپه دی کی هم یوڅه بحث سته په هرحال دسوال کوونکی دحال او دغنا څخه دخبریدو باوجود زکات ورکول ښه نه دی. فقط

(١). وګوری ردالمحتار ج٢ ص ١۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٨). ظفیر
(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج٢ ص ٩۵ ، ط. س. ج٢ ص ٣۵۵. ظفیر

جواب: ۲۱: دنفلی صدقې حکم لري، هرچاته ورکول کیږي.

دزکات روپۍ مړي ته دایصال ثواب دپاره ورکول څنګه دي؟ **سوال**: (۳۳۹) دزکات روپۍ مړي ته په دي توګه ورکول چې دمړي دطرف څخه خواړه پاخه سي اوفقیرانو ته يې ورکړي داجائز دي اوکه نه؟

جواب: دزکات روپۍ مړي ته په داسې طریقه ورکول چې تا لیکلی درست نه دي ([1]) دمړي دطرف څخه په روپو باندي خواړه پاخه کول چې وخوړل سي اوجامي محتاجانو ته ورکړي، په هره طریقه چې ورکول سي او دخپل طرف څخه يې دزکات په نیت سره ورکړي ددي ثواب مړي ته هیڅ نه رسیږي.

کسب ګرو فقیرانو ته زکات ورکول درست دي اوکه نه؟ **سوال**: (۳۴۰) کم خلګ چې سوال يې کسب وي هغوی ته زکات ورکول درست دي اوکه نه؟

جواب: داسې فقیران دچاچې سوال کول کسب وي اودا معلومه ده چې داسې خلګ اکثره متمول وي زکات ورکول ورته درست نه دي.

هندوته چې فقیر وي ورکول څنګه دي؟ **سوال**: (۳۴۱) فقیر هندوته دالله ﷻ په واسطه څه ورکول اویا دزکات ورکول درست دي اوکه نه؟

جواب: فقیر هندوته دالله ﷻ په واسطه څه ورکول درست دي خو دزکات ورکول درست نه دي ([2]).

دزکات په روپو دغریبو انجونو تعلیم درست دي اوکه نه؟ **سوال**: (۳۴۲) دزکات په روپو دغریبو انجونو مذهبي تعلیم درست دي اوکه نه؟

جواب: په زکات کې تملیك شرط دي یعنې یو محتاج يې مالك کول په کاردي نو غریبو انجونو ته که چیری نغدی اویا جامي اویا خوراك ورته دزکات څخه ورکول سي نودرست اوصحیح ده لیکن دمعلمي یانورو ملازمینو تنخوا ورکول ورڅخه درست نه دي ([3])، او باقي دزکات دمسائلو تحقیق اودهغه دمصارفو تفصیل دډهلی علماء په پوره پوره توګه تحقیق کړی دی، اویا په جنتي کالي اویا په نورو کتابونو کې دي وکتل سی په دي لیکنه کې ټول امور ذکر کول او وربانديځان پوهول مشکل دي.

دزکات دمال څخه دخوراک پخول یا دځه شي اخیستل څنګه دي؟ **سوال** : (۳۴۳) دزکات په

([1]). ولا یکفن بها میت لانعدام التملیك وهو الرکن (هدایه کتاب الزکوٰة ج۱ ص ۱۸۸). ظفیر

([2]). ولا یجوز ان یدفع الزکوٰة الی ذمی ویدفع الیه ماسوی ذالك من الصدقة (هدایة کتاب الزکوٰة ج۱ ص ۱۸۷).

([3]). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لااباحة کمامر فلاتصرف الی بناء نحو مسجد والی کفن میت وقضاء دینه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۴۴). ظفیر

مال چی څه خواړه پاخه سی اووخوړل سی اویا وربانډی یوشی واخلی داجائز دی اوکه نه؟ **جواب**: درست اوصحیح دی. فقط

په خپلوانو کی چاته زکوٰة ورکول درست دی؟ سوال: (۳۴۴) خپلی مور، پلار، خوابنی، خسرو تروړزی، دتره زوی، ورور، خور، خوریی، په دوی کی چا چاته دزکوٰة ورکول پکار دی اوچاته نه دی په کار؟

جواب: په دی ذکرسوو کسانو کی دمور او دپلار څخه علاوه نورو ټولوته دزکات ورکول درست دی ([1]). فقط

بی نمازه ته زکوٰة ورکول څنګه دی؟ سوال: (۳۴۵) بی نمازه ته زکات ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیری دغه بی نمازه محتاج اودزکات مصرف ؤ نوورکول ورته درست دی ([2]).

چاته چی زکوٰة ورکوی دهغه خبرول هم ضروری دی؟ سوال: (۳۴۲) چاته چی زکات ورکوی نودهغه خبرول هم ضروری دی اوکه نه؟

جواب: ضروری نه دی.

زوم او ورورته زکات ورکول څنګه دی؟ سوال: (۳۴۷) زوم او ورور اوخورته دزکات ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: جائزدی ([3]).

نابالغه سړی ته په زکات ورکولو سره زکوٰة اداء کیږی اوکه نه؟ سوال: (۳۴۸) نابالغه سړی ته په زکات ورکولو سره زکات اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: اداء کیږی ([4]).

په نژدی خپلوانو کی چاته زکات ورکول درست دی؟ سوال: (۳۴۹) زکات کمو اقاربو ته ورکول کیږی؟

جواب: بغیرداصولو اودفروعو اودزوجینو څخه نورو ټولوخپلوانوته زکات ورکول کیږی ([5]).

([1]). ولا الی من بینهما ولاد الخ (درمختار) وقید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب کالاخوة والاعمام والاحوال الفقراء بل هم اولی (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲). ظفیر

([2]). انما الصدقات للفقراء والمساکین الخ (هدایه ج۱ ص ۱۸۲). ظفیر

([3]). وګوری هدایه صفحه ۲۰۵.

([4]). دفع الزکوة الی صبیان اقاربه برسم عید اوالی مبشر اومهدی الباکورة جاز (درمختار) قوله الی صبیان اقاربه ای العقلاء والا فلا یصح الا بالدفع الی ولی الصغیر (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۹۲، ج۲ ص ۳۵۲). ظفیر

([5]). ولا الی من بینهما ولاد اوبینهما زوجیة (درمختار) وقید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب (رد المحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۲ ، ط. س. ج۲ص ۳۴۲). ظفیر

دصحرایی جائیداد والا دقرض داداء کولو دپاره زکات ورکول درست دی اوکه نه؟ سوال: (٣٥٠) که چیری یو سړی قرض دار وی اوهغه صحرایی جائیداد ولری نودزکات دمال څخه دهغه قرض اداء کیږی اوکه نه؟ که چیری اداء کیږی نودزیات څومره روپی ورته په قرض کی ورکول کیدی سی؟

جواب: دزکات مال په قرض کی حسابیدلی سی مثلاً په دی صورت کی چی کمی روپی چی موجودی دی هغه به دقرض داداء کولو دپاره مقرر سی، نه جائیداد صحرایی، په درمختار کی دی: ولو له نصب صرف الدين لا يسرها قضاءًا الخ. اوپه شامی کی دی: كان يكون عنده دراهم ودنانيرو وعروض التجارة، وسوائم يصرف الدين الى الدراهم والدنانير الخ ([1]).

په مدرسه کی زکات اودهغه مصارف: سوال: (٣٥١) دامدرسه دڅو ورځو څخه جاری سوی ده اوس دخلګو خیال دی چی دیته زکات عشر اونور ورکړی نوکم سړی ددی مصرف دی مثلا مدرس چی غنی وی ددی څخه تنخواه اخیستی سی اوکه نه؟

جواب: زکات اوعشر اوټول واجب صدقات لکه سرسایه اوکفارات داستاذانو په تنخواګانو کی ورکول درست نه دی په طالب علمانو مسکینانو اوغریبانو باندی لګول یې جائزدی . نو که چیری مدرسی ته زکات راسی نواول ددی تملیك یوفقیر چی دنصاب مالك نه وی مالك کول په کاردی بیادی دده دطرف څخه دمدرسی په مصارفو کی ولګول سی ([2]).

ددرسګاه په تعمیر باندی دزکات روپی لګول څنګه دی؟ سوال: (٣٥٢) دیو انجمن خاوند ته دزکات روپی ورکول غواړی لیکن سوال دادی چی ایا دزکات روپی په طالبانو او ددرسګاه په ابادولو اومدرسینو ته ورڅخه تنخواګانی ورکول کیدی سی؟

جواب: دطالب علمانو مصارف خوراك اوپوشاك اوپه نورو کی دزکات روپی لګول په کاردی، ددرسګاه په تعمیر اودمدرسینو په تنخواګانو باندی دزکات روپی نسی مصرف کیدی مګر په دی حیله چی دغه روپی دیوه سړی ملکیت وګرځوی چی دنصاب مالك نه وی، اوزکات ادا سی بیابه یې دغه سړی دخپل طرف څخه دمدرسی په تعمیر اونورو کی مصرف کی ([3]).

د زکات د روپو څخه د مدرسی خاوند ته قرض ورکول کیدی سی او که نه ؟ سوال: (٣٥٣)

([1]). په ظاهره ددی سوال دجواب سره کم تعلق نسته.

([2]). وحلية التكفين بها التصديق على فقير ثم هو يكفن فيكون الثواب لهما وكذا فى تعمير المسجد (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١) . ظفير

دمدرسی مهتمم اویا دمدرسی اراکینو ته دزکات اویا دنورو صدقاتو دورکوونکو داجازی څخه بغیر قرض ورکول یاقرض اخیستل او دمدرسینو په تنخوا کی لګول شرعًا جائزدی اوکه نه؟

زکات دحیلی په طور په تنخوا کی لګول څنګه دی؟ سوال: (۳۵۴) مهتمم اویا دمدرسی اراکین په دی حیلی سره چی اول دقربانی دڅرمنو قیمت یازکات دورکوونکو داجازی بغیر کم یوطالب العلم ته ورکړی اوبیا یې دهغه څخه بیرته واخلی دمدرسینو او د ملازمینو په تنخوا کی ولګول سی، دا لګول جائزدی اوکه نه؟

جواب: ١\ : ښکاره ده چی جائز نه دی. (١)

٢\ : دغسی حیله فقهاء وو جائز کړیده. کذا فی الدر المختار (٢).

دزکات څخه ملازمینو ته تنخوا ورکول درست دی اوکه نه؟ سوال: (۳۵۵) زموږ اراده ده چی یوه مدرسه جوړه کړو اوددی مصارف ټول دزکات څخه ورکړو، ایا دملازمینو تنخواه دزکات څخه ورکول درست دی ؟

جواب: دمعلم په تنخواه باندی دزکات لګول درست نه دی زکات بغیر دکمی معاوضی څخه په تعلیم اونوروکی مسکینانو اوغریبانو ته ورکول اوهغه یې مالك جوړول ضروری دی. هکذا فی کتب الفقه (٣).

هغه معلم چی دنصاب مالک اوعیالداره وی زکات ورکول ورته څنګه دی؟ سوال: (۳۵٦) یوسړی دی چی دنصاب خاوند دی که چیری هغه داسی چاته دزکوٰة مال ورکړی چی دتعلیم او دتعلم په کارکی همیشه لګیا دی اودنصاب په اندازه په خپله هم مال لری البته عیالداره ضروردی، آیا مذکوره سړی ته زکات په ورکولو سره ادا کیږی اوکه نه؟ او دا مدرس عیالداره دعشر دغلی اودقربانی دڅرمنی مصرف والا کیدی سی اوکه نه؟

جواب: که چیری هغه معلم دنصاب خاون دوی نودزکات ورکول ورته صحیح نه دی او زکات نه اداء کیږی اودمدرسی استاذ که دنصاب مالك وی نوهغه هم دزکات مصرف نه دی ، دقربانی څرمن داسی چاته ورکول صحیح دی چاته چی زکات ورکول درست دی

---

(٣). ولایخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص١٢، ط. س. ج٢ ص٢٧١). ظ

(١). وګوری شامی کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١. ظفیر

(٢). انما الصدقات للفقرآء والمساکین ﷺ (هدایه ج١ ص١٨٢) ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة (الدرالمختار باب المصرف). ظفیر

(٣). ولا الی غنی یملك قدر نصاب فارغ حاجة الاصلیة من ای مال کان (درمختار) فان کان له فضل عن ذالك (ای الحاجة الاصلیة) تبلغ قیمته مائتی درهم حرم علیه اخذ الصدقة (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٧). ظفیر

هغه ته دقرباني خرمن او دعشر ورکول هم درست دی، (١) اوچاته چې داورکول درست نه دی نوهغه ته دقرباني دخرمن ورکول اودعشر ورکول هم صحيح نه دی (٢). که په مدرسه کې زکات اونور صدقات فرضيه دغريبو طالبانو دپاره ورکړی نوصحيح دی، په مسکينانو طالبانو باندی داروپې مصرف کولی سی (٣). فقط

زکات په طالبانو مصرف کول څنګه دي؟ سوال: (٣٥٧) که چيری دزکات روپې دمدرسې په مصارفو کې لکه خوراك، چښاك، لباس اوپه داسې نوروکی مسکينانو طالبانوته ورکول سی زکات اداء کيدلی سی اوکه نه؟ اويو طالب العلم ته سل روپې ورکول جائزدی اوکه نه او دمدرسينو او دملازمينو دتنخوا دپاره دزکات څخه کمه حيله ده.

جواب: په زکوٰة کې دفقراوو تمليك شرط دی که چيری طالبان مسکينان وی نو دهغوی په خوراك اوچښاك کې دزکات زر مصرف کول صحيح دی اوکه دزکات دزرو څخه کتابونه واخيستل سی اودهغوی په ملکيت کې سی داهم صحيح دی (٤). په دی طريقه په يوطالب باندی سل روپې مصرف کول صحيح دی اودمدرسينو او دملازمينو دتنخواه دپاره حيله جواز لری چې اول دی زکات يومسکين سړی ته ورکول سی هغه سړی دی وروسته دملکيت څخه دخپل طرفه دمدرسينو اودنورو په تنخواه کې ورکړی داجائز ده (٥). فقط

دزکات دروپو څخه مدرسينو ته تنخواه ورکول اودرسګاه جوړول څنګه دي؟ سوال: (١١\ ٣٥٨) په يو مدرسه کې زکات ورکول جائز دی اوکه نه؟ او دمدرسينو په تنخواه يا دمدرسې په ابادولو کې مصرف کول څنګه دی؟

يتيمه انجلی چې د نوکري په حيثيت سره وي هغې ته ګينه جوړول څنګه دي ؟ سوال : (١٢\ ٣٥٩) دزيد سره دلته يوه يتيمه انجلی فقط دډوډی او جامو ورکولو سره وی نو زيد د

---

(١). ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٧. ظفير

(٢). مصرف الزکوٰة والعشر الخ هوفقير (درمختار) وهومصرف ايضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغيرذالك من الصدقات الواجبة کمافی القهستانی (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفير

(٣). مصرف الزکوٰة الخ هو فقير الخ ومسکين الخ فی سبيل الله وهو منقطع الغزاة وقيل. الحاج وقيل طلبة العلم الخ (ايضا ج٢ ص ٨٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفير

(٤). مصرف الزکوٰة الخ هوفقير الخ ومسکين الخ وفی سبيل الله الخ يصرف الزکاة الی کلهم اوالی بعضهم الخ ويشترط ان يکون الصرف تمليکا لااباحة (ردالمحتار) فلا يکفی الاطعام الا بطريق التمليك (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ وص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفير

(٥). وحيلة التکفين بها التصدق علی فقير ثم هويکفن الثواب لهما وکذا فی تعمير المسجد وتمامه فی حيل الاشباه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفير عفی عنه

زکات په روپو سره دهغې دپاره څه جامی یا ګینه جوړولی سی اوهغه ښځه دا زکات دخدمت بدله ګڼلی ده دې ته ورکول صحیح دی او که نه؟

جواب: \۱: دزکات روپی دمدرسی په تعمیر او دمدرسینو په تنخواګانو کی مصرفول درست نه دی (۱). البته دطالبانو په خوراك اولباس کی یې مصرف کولی سی.

\۲: او دیتیمی انجلی دکمی چی تنخواه مقرر نه ده فقط په ډوډی اوجامو ورکولو یې ورته مقرر کړی وی ددی دپاره دزکات څخه ګینه جوړول او ورکول صحیح دی یاهغه ته نغدی ورکول هم درست دی (۲). اوکمه جامه چی دهغه لپاره مقرروی هغه دی دزکات څخه نه جوړوی اوبلی خادمی ښځی ته یې ورکول صحیح نه دی چی هغه یې دخپل خدمت معاوضه ګڼی. فقط

مالداره ته صدقه اونذر ... اوزکات ورکول کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۲۰) مالداره ته صدقه اوزکات یا دنذر مال اخیستل څنګه دی؟

جواب: حرام دی (۳). فقط

که دناخبری په وجه زکات دنصاب مالک ته ورکړی وروسته معلومه سی نوڅه به کوی؟ سوال: (\۱ ۳۲۱) دزکات مال یا سرسایه یانور صدقات واجبه که داسی سړی ته ورکړی چی هغه دنصاب خاوند وی لیکن ورکوونکی ته معلوم نه وی، نوڅه حکم دی؟

دغنی نابالغه محتاجه اولاد ته زکات ورکول صحیح نه دی. سوال: (\۲ ۳۲۲) یا یی هغه نابالغه ماشومانو ته ورکړی چی پخپله محض مفلس وی لیکن دهغوی مور اوپلار دنصاب خاوندان وی نوجائز دی اوکه نه؟ اوزکات وغیره اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: \۱، ۲: که ورکوونکی ته دهغه دنصاب مالك کیدلو علم نه وی نوزکات یې اداء سو. وان بان غناه الخ لا یعید الخ. درمختار (۴). اودغنی محتاج اولاد نابالغو ته زکات اونور فرضی صدقات ورکول درست نه دی، دوی ته به زکات نه اداء کوی (۵). فقط

---

(۱). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة فلا یصرف الی بناء مسجد ولا الی کفن میت وقضاء دینه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴). ظفیر

(۲). مصرف الزکوٰۃ الخ هوفقیر الخ ومسکین الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۷۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹). ظفیر

(۳). ولا الی غنی یملك قدر نصاب فارغ عن حاجته الاصلیة من ای مال کان (درمختار) فان کان له فضل غن ذالك تبلغ قیمة مائتی درهم حرم علیه اخذ الصدقة (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۷) مصرف الزکوٰۃ (درمختار) وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذالك من الصدقات الواجبة کما فی القهستانی (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۷۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹) . ظفیر

(۴). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۹۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۲. ظفیر

مجبور سید زکات اخیستلی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۲۳) کم سید چی کورنی یې لوی وی اوهغه ړوند اوحاجتمند وی نوده ته زکات اخیستل جائزدی اوکه نه؟

جواب: داحنافو پرمذهب دصحیح قول مطابق اوظاهر الروایت په مطابق سره سید ته په هیڅ حال کی دزکات ورکول صحیح نه دی. کما فی الدر المختار، ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع ([1]). فقط (داسی مجبور سیدته دزکات اخیستلو دحیلی په توګه ګنجائش سته).

دکم خدمت په عوض کی زکات اخیستل او ورکول درست نه دی؟ سوال: (۳۲۴) دزکات ورکونکی زوی حافظ دی اوهغه په رمضان کی قرآن کریم اوروی، دمسجد امام کم چی حافظ دی او داوریدونکی استاذ هم دی، دی یې وروسته ځینی اوری، په دی صورة کی دزکات رقم دنذر په توګه څه امام ته ورکول جائز دی اوکه نه؟

جواب: دې سامع حافظ صاحب ته زکوة ورکول دده داوریدلو په عوض کی لکه څنګه چی رواج دی جائزنه دی اوپه حقیقت کی داانذر نه دی، بلکی دقرآن کریم داوریدلو دخدمت معاوضه ده ([2]).

دمسجد په ابادولو دزکات روپی لګول صحیح نه دی: سوال: (۳۲۵\۱) دزکات روپی دمسجد په تعمیرولو کی مصرف کولی سی اوکه نه؟

دتکیه په احاطه کی دزکات روپی مصرف کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۲۲\۲) په یوه تکیه خانه کی مسجد واقع دی اوددغه تکیه څلورو واړو طرفونو ته لوی حوضونه دی نوکه چیری دتکیه دمځکی دحفاظت په غرض چی په دغه مځکه کی یومسجد هم واقع دی دزکوٰة روپی دتکیه خانی ګیر چاپیره په دیوال یاګل کاری باندی مصرف کړل سی نو زکات صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: ۱\، ۲: په دواړو ځایونو کی دزکات روپی مصرف کول جائز نه دی. کما فی عامة کتب الفقه ([3]). فقط

دپیش امام دپاره دزکات اخیستل څنګه دی؟ سوال: (۳۲۷) پیش امام کم چی دنصاب خاوند یا سید وغیره هم نه وی دزکات مال اخیستلی سی اوکه نه؟

([5]). ولا الی طفله (درمختار) ای الغنی (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۹۰ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۹. ظفیر

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۹۰ وص ۹۱ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۰. ظفیر

([2]). انما الصدقات للفقراء والمساکین الخ (هدایه باب من یجوز دفع الصدقات ج۱ ص ۱۸۲). ظفیر

([3]). ولا یجوز ان یبنی بالزکوٰة المسجد وکذا القناطر، والسقایات واصلاح الطرقات وکری الانهار والحج والجهاد وکل مالا تملیك فیه (عالمګیری مصری کتاب الزکوٰة باب السابع فی المصارف ج۱ ص ۱۸۸). ظفیر

جواب: زکات، سرسایه، اونورصدقات واجبه بغیردعوض څخه فقراوو ته ورکول ضروری دی نوامام ته دامامت په عوض کی ورکول اوهغه ته یې اخیستل صحیح نه دی ([1]).
(البته که داروپی دمیاشتی دتنخواه مقرری څخه علاوه جلا دمحتاجانو دپاره معلومی کړی وی او وریې کړی اوهغه دزکات مستحق وی نودرست دی. ظفیر)

سید لره دزکات اخیستل صحیح نه دی اونه دنصاب خاوند لره: **سوال**: (۳۲۸\۱) دزید کاکا په قوم سید دی غریب سړی دی دوه سوه روپی قرض داردی، اوپه سود باندی زیاتیږی، دوه زامن یې نابالغه دی او دزید کاکا په قوم پښتانه دی دسلو روپو زیوارت لری چی پنځه ویشت پکښی گرو دی زید خپل اودنورو څخه دزکات مال ورکولی سی اوکه نه؟

یو مستحق ته دزکات روپی ورکړی چی داهغه سیدته ورکړه دا رواه ده: **سوال**: (۳۲۹ \۲) یو غیر مذهب مستحق ته دزکات مال په دی شرط سره ورکول چی ته به یې دزید کاکا ته ورکوی جائزدی اوکه نه؟

جواب: ۱. ۲: غریب سید ته دزکات دورکولو دجواز داصورت دی چی یوغریب سړی چی هغه سیدنه وی هغه ته زکات ورکول سی اوهغه یې مالك جوړ کړی بیا هغه دی دخپل طرف څخه دی سیدته ورکړی دا دجواز صورت دی اوپه درمختارکی یې داحیله دجواز لیکلی ده ([2]). او دپښتانه اکا سره چی کله دسلو روپو زیور موجود دی نوهغه ته زکات ورکول درست دی مگر په موجوده حالت کی صحیح نه دی، ځکه چی دپنځه ویشت روپو دقرض ورکولو څخه وروسته بیا هم نصاب باقی پاته کیږی ([3]). فقط
(نصاب (۵۲) نیمی تولی سپین زر یا دهغه قیمت دی په دی وخت کی د(۵۲) نیمو تولو قیمت دوه سوه روپی دی).

دزکات روپی حافظ ته په میاشتنی تنخواه کی ورکول درست نه دی: **سوال**: (۳۷۰\۱۱) دخپل زکات څخه که چیری حافظ ته چی په عام ډول سره دقرآن کریم په تعلیم باندی ورکوی او نوکر یې وگرځوی نوجائزده که نه ده او ددی نوکر څخه خپل زوی ته بغیر دتنخواه څخه درس ورکوی اوکه نه جلا عوض ورکړی؟

([1]). قال الاصل فیه قوله تعالی انما الصدقات للفقراء الخ (هدایه باب مایجوز دفع الصدقات الیه ج۱ ص ۱۸۲) دا دفقراوو اودنورو محتاجانو حق دی لهذاپه معاوضه کی ورکول یې درست نه دی. ظفیر
([2]). وحیلة التکفین بها التصدق علی فقیر ثم هو یکفن الثواب لهما وکذافی تعمیر المسجد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۱). ظفیر
([3]). ولا الی غنی یملك قدر نصاب فارغ من حاجة الاصلیة من ای مال کان (ایضا باب المصرف ج۲ ص ۸۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۷). ظفیر

دزكات روپى دمدرسى په طالبانو په څه طريقه ولګوى؟ سوال: (٣٧١\٢) كه مدرسى ته دزكات كمى روپى راسى دا دمدرسى مهتمم طالبانو ته نغدى وركړى ياكتابونه اوجامى هم په اخيستى سى اوكه نه؟

دروپو په منى آرډر كولو او ليږلو سره زكات څنګه اداء كولى سى؟ سوال: (٣٧٢\٣) دزكات روپى دحوالى په ذريعه په ليږلوكى دخپل جنس روپى چى هغه ونه رسيدلى نوبيا دروپو ليږونكى دروپو زكات څنګه اداء كړى؟

جواب: ١\ : جائزنه دى، كما فى الدر المختار (١).

٢\ : كه نغدى يې وركوى ياجامى په اخلى اوهغه تقسيموى اويا ورباندى كتابونه واخلى او وريې كړى ټول جائزدى (٢).

٣\ : زكات دحوالى ليږلو په طريقه سره اداء كيږى ځكه چى دمالك دخوا څخه دتبادلى اجازه سويده (٣). فقط

په لاندى حقدارو كى دزكات وركول چاته ښه دى؟ سوال: (٣٧٣\١) زكات خپل خاوند، قريشى يتيم، خپل يتيم اوغريب، غريب ګاونډى، كونډه ښځه، قرضداره سړى، مسكين مثلا ليونى، شل، ګوډ، ړوند عالم، دمدرسى دجومات امام، يتيمان اوداسى نور، ددى ټولو په موجودګى كى څوك اول حقدار دى؟

دصدقى زيات حقدار څوک دى؟ سوال: (٣٧۴\٢) دصدقى اودخيرات زيات حقدار څوك دى؟

دنذر او دمننى خوارک چاته وركولى سى؟ سوال: (٣٧٥\٣) كمه مننه اونذر چى دالله ﷻ په نامه سوى وى اوهغه دخوراك په صورت وركوى ددى دپاره اولنى حقدار څوك دى؟

اولياء كرامو ته دثواب درسولو دپاره صدقه اوخيرات چاته وركول ښه دى؟ سوال: (٣٧٦\۴) خلګ وخت په وخت داولياء كرامو يا دبزرګانو روحونو ته دثواب ليږلو دپاره صدقه او خيرات كوى، په دى كى زيات اومقدم حقدار څوك دى؟

جواب: ١\ : دزكات مصرف غريب اومحتاج سړى دى كه هغه دنصاب مالك نه وى كه چيرى خپل خپلوان نژدى رشته داران وى بغير داصولو اودفروعو څخه كه هغوى محتاج

---

(١). ولا الى طفله (درمختار) اى الغنى الخ فافاد ان المراد بالطفل غير البالغ ذكرا كان اوانثى فى عيال ابيه اولا على الاصح لما انه يعد غنيا بغناه (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴٨). ظفير

(٢). وجاز دفع القيمة فى زكوٰة وعشر وخراج وفطرة ونذر وكفارة غير الاعتاق وتعتبر القيمة يوم الوجوب وقالا يوم الاداء الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب زكوٰة الغنم ج٢ ص ٢٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨٥). ظفير

(٣). ويشترط ان يكون الصرف تمليكا (باب المصرف ج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴۴). ظفير

وی نوهغوی ته ورکول زیات ثواب لری مثلا وروړ خور غریبانان وی نودوی ته یې په ورکولو کی زیات ثواب دی اوکه عالم محتاج وی نوهغه ته یې ورکول هم درست دی (١)،
او دجومات امام ته دامامت په عوض کی ورکول درست نه دی.
۲\ : نژدی خپلوان زیات حقدار دصدقی دی (٢).
۳\ : په دی کی به خپلوان مخکی کوی، بیا ددی څخه وروسته عامو محتاجانو ته یې ورکول په کاردی.
۴\ : په دی کی هم دغه رعایت کول دی، اوکم چی باقی صدقات دی په هغوکی دی هم خپل خپلوان او مسکینان مقدم کوی (٣). فقط

کم طالبان چی دمدرسی دقوانینو پابندی نه کوی هغوی ته زکات ورکول کیږی اوکه نه؟

سوال: (۳۷۷) دمدرسی قواعد چی کله پرطالبانو باندی ضروری وی که چیری هغوی ددی په پوره کولو کی نقصان وکړی نوکه زکات دوی ته ورکول سی اداء کیږی اوکه نه اداء کیږی؟

جواب: دمدرسو قانون دادی چی دزکاة دمال اول تملیك وکړل سی بیا دهغه مالك دطرف څخه روپی دمدرسې دمصارفو دپاره ورکړل سی ددی وجه څخه دمدرسی دقواعدو دطالبانو په متعلق جاری کیدلو کی دزکات په اداء کولو کی هیڅ فرق نه راځی، ځکه چی زکات مخکی په همدی وخت دتملیك کی اداء کیږی (۴). فقط

زکات اوعشر په جومات کی مصرفول درست نه دی: سوال: (۳۷۸\۱) زکات، عشر، دکوچنی اختر سرسایه، دقربانی غوا، عقیقه اومننه ددی ټولو مالونو څخه جومات جوړول یاپه جومات کی ډیوه بلول، یاپه نورو داسی ضروریاتو کی مصرفول جائز او صحیح دی اوکه

---

(١). مصرف الزکوٰۃ الخ هو فقیر وهو من له ادنٰی شیئ الخ ومسکین الخ یصرف المزکی الی کلهم او الی بعضهم الخ وکره نقلها الا الی قرابته بل فی الظهیریة لا تقبل صدقة الرجل وقرابته محاویج حتٰی یبدء بهم فیسد حاجتهم او احوج او اصلح او اورعا وانفعا للمسلمین (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۷۹ وص۸۰ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹). ظفیر

(٢). بل فی الظهیریة لاتقبل صدقة الرجل وقرابته محاویج حتٰی یبداء بهم فیسد حاجتهم. (ایضا ج۲ ص ۹۳). ظ

(٣). عن أبي هريرة مرفوعا إلى النبي (ﷺ) أنه قال: يا أمة محمد، والذي بعثني بالحق لا يقبل الله صدقة من رجل وله قرابة محتاجون إلى صلته ويصرفها إلى غيرهم الخ وفي القريب جمع بين الصلة والصدقة. وفي القهستاني: والافضل إخوته وأخواته ثم أولادهم ثم أعمامه وعماته ثم أخواله وخالاته ثم ذوو أرحامه ثم جيرانه ثم أهل سكته ثم أهل بلده (ردالمحتار باب ایضا ج۲ ص ۹۳ وص ۹۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۳). ظفیر

(۴). ولا يخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء وحيلة التكفين بها التصدق على فقير ثم هويكفر فيكون الثواب لهما وكذا فی تعمير المسجد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰۃ ج۲ ص ۱۵ وص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۰ و ۲۷۱). ظفیر

نه دی؟

زکات چاته ورکول ښه دی؟ سوال: (۳۷۹\۲) ذکر سوی مال په اسلامی مدرسه کی ورکول زیات ثواب دی اوکه نه هغه فقیرته چی دزکات آمدنی دنشه یی موادو په شیانو کی مصرفوی؟

جواب: \۱: زکات، عشر، سرسایه، اونور صدقاتِ واجبه دمسجد په ابادولو اومرمت کولو اوپه نوروکی یې مصرفول درست اوصحیح نه دی په دی کی دفقیرانو تملیك ضروری دی (١).

\۲: داسی فقیرانو ته دی نه ورکوی چی هغه یې په نافرمانی کی ولګوی دمدرسی طالبانو ته یې ورکول زیات ثواب لری چی هغوی ددین علم حاصلوی. فقط

دزکات دروپو څخه قرض اداء کول اوپه تجارت کی یې لګول څنګه دی: سوال: (۳۸۰\۱) دمثال په توګه چاسل روپی دزکات وایستلی اوبیلی جلا یې کښی ښوولی خو ددی په قبضه کی پرتی دی، بغیر دچا په تملیك راوستلو هغه داروپی دچاپه قرض کی ورکولی سی اوکه نه؟ یادزکات روپی په تجارت کی ولګول سی اوفائده هم دزکات والا حق ګڼی نودا جائزده اوکه نه؟

جواب: ترڅو پوری چی هغه روپی چی دزکات په نیت یې جلا ایښی وی فقیرانو او مسکینانو ته یې نه وی ورکړی اوهغه یې مالکان نه وی ګرځولی، تردی وخته پوری هغه روپی دنصاب دخاوند په ملکیت کی دی (٢)، که چیری ددی څخه چاته قرض ورکوی او یایې په تجارت کی لګوی صحیح دی، لیکن که بیا یو وخت دغه روپی یې بیرته واخیستلی یانوری روپی چی دده سره دی په زکات کی ورکړی نوبیا دزکات نیت کول په کاردی اوکه په تجارت کی څه فائده وسوه نو هغه دروپو والاده. فقط

(په صورت مسئوله کی زکات نه اداء کیږی دزکات درقم څخه بغیر دتملیك دمستحق څخه په تجارت کی لګول، اویا قرض ورکول درست نه دی. ظفیر)

طالبانو ته دزکات ورکولو دپاره داهلیت تلاش کول په کاردی اوکه نه؟ سوال: (۳۸۱\۱) طالبانو ته دزکات ورکول بغیر داهلیت دقید څخه جائزدی اوکه نه دی جائز؟ یعنی دا

---

(١). مصرف الزکوٰة (درمختار) وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذالك من الصدقات الواجبة الخ (ردالمحتار باب المصرف ص ۷۹) ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة ولایصرف الی بناء نحو مسجد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹ و۳۴۴). ظفیر

(٢). ولایخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء لفقراء (درمختار) قوله لایخرج عن العهدة بالعزل فلو ضاعت لاتستقط عنه الزکوٰة ولو مات کان میراثا عنه (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۰). ظفیر

لیدل چی هغه دنصاب مالك دی اوکه نه یاسید دی یا قریشی، اودا سوچ کول چی دهغه مور اوپلار پروش کونکی دنصاب خاوندان دی اوکه نه دی که چیری دهغه مور اوپلار یاپرورش کوونکی دنصاب خاوندوی لیکن هلکانو ته کتابونه جامی نه ورکوی نو دداسی سامان دپاره ورکول یی طالبانو ته جائز دی اوکه نه؟

دکمو طالبانو چی معلومه نه وی چی مستحق دی اوکه نه دی دوی ته زکات ورکول څنګه دی؟ **سوال**: (٢\٣٨٢) که مهتمم ته معلومه نه وی چی دده مور او پلار، او یا پرورش کوونکی دنصاب مالك دی اوکه نه نو په داسی حالت کی دزکات دمال څخه دطالب علم سره کومك جائزدی اوکه ناجائز؟

دتاجر تملیک چی کم په حاضر وخت کی دنصاب خاوند نه وی: **سوال**: (٣\ ٣٨٣) کم سړی چی دنصاب خاوند نه وی اوتجارت کوی اوده ته فقط نفعه لاس ته ورځی چی دهغه اندازه ده ته معلومه نه ده اوپه دی باندی پوره کال هم نه دی تیر سوی کیدی سی چی دپنځو سوو څخه زیات وی په داسی حالت کی دده تملیك جائز دی اوکه نه؟

جواب: ١\: دا قید په طالبانو کی هم دی چی هغه هم دزکات مصرف وی یعنی چی دنصاب مالك نه وی، سیدنه وی اوکه چیری هغه طالبان نابالغ وی نودهغه مور اوپلار دنصاب مالك اوغنی نه وی دبالغ دپاره دمور اودپلار غنی والی مانع نه دی که چیری هغه په خپله فقیروی نودزکات څخه ورته جامی اوکتابونه ورکول درست دی چی هغه مصرف وی غنی نه وی اودمالدارانو صغیر اولاد نه وی ([1])، ددی تحقیق کول په کاردی ([2]).

٢\: معلومول ضروری دی لیکن که طالب علم پخپله ووایی چی زه غریب یم اوزما مور اوپلار هم غریبانان دی، نودهغه دویلو موافق زکوٰة ورکول ورته درست دی ([3]).

٣\: په داسی حالت کی هغه ته په دی وخت کی زکات ورکول درست دی ([4]) اوکله چی هغه ته نفع رسیږی اوهغه دنصاب په اندازه وی نوکه چیری کال وربا ندی نه وی تیرسوی نوبیاده ته زکات ورکول درست نه دی. فقط

([1]). ولا الی غنی یملك قدر نصاب فارغ عن حاجة الاصلیة من ای مال کان الخ ولا الی طفله بخلاف ولده الکبیر الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٨ وص ٩٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٧). ظفیر

([2]). لودفع تحرم لم یجز ان اخطا (ایضا ج٢ ص ٩٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٣). ظفیر

([3]). اذا شك وتحری فوقع فی اکبر رایه انه محل الصدقة فدفع الیه اوسال منه فدفع اوراه فی صف الفقراء فدفع فان ظهر محل الصدقة جاز بالاجماع وکذا ان لم یظهر حاله عنده (عالمگیری مصری باب المصارف ج١ ص ١٩٠). ظفیر

([4]). مصرف الزکوٰة الخ هو فقیر وهو من له ادنی شیئ ای دون نصاب غیر تام مستغرق فی الحاجة (الدر =

زکات، سرسایه اوداسی نور غیر مسلم ته ورکول څنګه دي؟ سوال: (٣٨۴) دزکات مال دقرباني غوښه اوصدقه فطر اودالله ﷻ دنذر اوخیرات غیر مذهب والاته ورکول صحیح دي اوکه نه دي؟

جواب: دزکات مال غیر مذهب والاته ورکول درست نه دي. کما ورد تؤخذ من اغنيائهم الحديث (١). البته دزکات دمال څخه علاوه، دالله ﷻ دنذر، صدقې یا دقرباني غوښه او سرسایه غیر مذهب والا خلګو ته ورکول درست دي. فقط کمافی الدر المختار وجاز دفع غير ها الخ ای غير الزکوٰة اليه ای الذمی ولوواجبًا کنذر وکفارة وفطرة الخ (٢). فقط (لیکن مسلمانانو فقیرانو ته يې ورکول ښه دي (٣). ظفیر)

دې لاندې صفاتو لرونکو ته دزکات ورکول څنګه دي؟ سوال: (٣٨۵) دزکات څه روپۍ يې دلته دمسکینانو دپاره ایښې وی لیکن دڅو ورځو هیسې يې اراده بدله سوه وجه يې داوه چې دلته اکثره خلګ تش په نامه مسلمانان دي هیڅ خبره پکښې دمسلمانۍ نسته، عقائد، عبادات، اومعاملات يې خراب دي، دعقائدو يې داحالت دی چې یوقوم دلته فقیردی چې هغه ډیر سخت مشرك ګڼل کیږي دهغه حالت دادی چې یوسړی چې دلته زما سره نوکردی غلا اودنورو تذکره اوبیان کوی چې صاحبه که ما ستا غله یا نور څه غلا کړل نوپه دوهم جَنَمْ (زیږیدل) کې به زه غوایی سم اوستا دانه دانه به ورکړم، داحالت دښو خلګو دی دعوامو يې ددې څخه هم غټ اولوی خراب عقائد دي داسې سړی ته مسلمان ویل او دمسلمانانو سلوك ورسره کول څنګه دي، شرك، بدعت اوتعزیه پرستي اوداسې نور دهغوی کاردي الله ﷻ اورسول مبارك ﷺ پیژندل نسته نه لمونځ کوی اونه روژه نیسي، دروغ ویل، دوکه، زنا، غلا بد نه ګڼي چې ځان ځیني وساتي نو ددې په خواکې دمرګ څخه وروسته بیا ژوندی کیدل هم نه پیژني (یعنی نه يې مني) په داسې حالت کې دوی ته زکات ورکول څنګه دي که جائز وي خوخیر اوکه نه وي نودشاه آباد اوآره د مظلومانو حالت تا په اخبارونو کې لیدلی دی، زما زړه غواړي چې دهغوی دپاره يې ولیږم لیکن هلته هم پورتني ذکرسوی شبهه سته، بلکې غالب ګمان دی چې هغوی ددوی څخه بدتردي، په دې حالت کې دي څه وسي؟

= المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ وص٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفير

(١). ددې څخه وروسته دي: وترد على فقراء هم ؒ . ظفیر

(٢). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣۵١. ظفير

(٣). واختلفو فی صدقة الفطر والنذر والكفارات قال ابوحنيفة ومحمد رحمهما الله يجوز الا ان فقراء المسلمين احب الينا كذا فی شرح الطحاوی (عالمگیری مصری باب سابع فی المصارف ج١ ص ١٨٨). ظفير

جواب: دخپل کلی هغه خلګو ته دکمو چی تاسی حالت لیکلی دی زکات ورکول ورته صحیح دی، نوکه څه رقم دخپل زکات څخه ددی خلګو دپاره کښی ښوول سی هغه ددی څخه ورکول ورلره درست دی ځکه چی دخپل ښار دغریبانو هم حق دی بلکی زیات حق لری اودشاه اباد مظلومان که څه هم ډیر حقدار دی مګرپه دی کی دمصرف کوونکی دبی احتیاطی شبهه ده دهغه دابیره ده چی زکات اداء نه سو، ځکه چی دزکات په اداء کولو کی تملیك دفقیرانو شرط دی، ددی وجه څخه دیومسجد یا یومکان وغیره دمرمت کولو اوپه برابرولو کی ددی لګول درست نه دی اوپه تجهیز اوپه تکفین دمړی کی یې هم لګول صحیح نه دی نومعلومه نه ده چی هغه څوك چی هغه ته دارقم لیږل کیږی هغه ددی شرط پوره لحاظ وساتی اوکه نه؟ اوهغه به دزکات دمصارفو څخه په پوره طریقه خبروی اوکه نه وی، ستا دخپل ښار اوسیدونکی دکمو چی تا حال لیکلی دی که څه هم چی ددوی داعمالو او عقائدو خرابی ښکاره ده مګر داهم ښکاره ده چی کله هغوی دکلمی ویوونکی اوداسلام دعوٰی کوونکی دی که څه هم اعمال اوعقاید یې خراب دی نوپه عام ډول سره دده دکفر حکم نسته اونسی کیدلی، البته که دیو خاص سړی څخه چی دکفر کلمه واوریدل سی اودهغه حال په تحقیقی توګه معلوم وی چی دهغه عقائد دکفر دی نو پرهغه باندی حکم دکفر کیدلی سی خوعموما په عامو مسلمانانو باندی داسی دکفر حکم نسی کیدلی، نو کله چی پردوی باندی عموما دکفر حکم نه عائد کیږی نوزکات ورکول په نظر کی ساتل په کاردی چی په خپل ښار کی وی، ددې څخه زیات ددوی دحال پلټل نه دی پکار، لکه چی په حدیث شریف کی دی چی یوسړی دصدقی دورکولو اراده وکړی (عامه خبره ده چی نفلی وی صدقه اوکه فرضی) یعنی په اوله ورځ یې زکات غل ته ورکی، اوبیاپه دوهمه ورځ یې زناکاری ښځی ته ورکړی، اوبیایې غنی ته ورکړه، نوده پر دی کار افسوس وکی، نوپه خوب کی ده ته وویل سوه چی ستا دری واړه صدقی قبولی سوی، کیدی سی چی غل ددی څخه عبرت واخلی اودغلا څخه توبه وکاږی او زناکاره دزنا څخه توبه وکاږی اودغنی دپاره به نصیحت سی چی هغه هم صدقه اوداسی نوربه خیرات ورکوی (١). انتهٰی مختصراً، اوپه دی دری صورتونو کی زموږ حنفی فقهاء دزکات داداء کولو هم قائل دی په درمختار کی دی: دفع بتحر لمن یظن مصرف فبان انه عبده اومکاتبه اوحربی ولو مستامنا اعادها لما مر، وان بان غناه اوکونه ذمیا اوانه ابوه او ابنه اوامرأته اوهاشمی لایعید لانه اتی بما فی وسعه الخ (٢)، باب المصرف، درمختار

(١). وګوری مشکوٰة المصابیح باب الانفاق وکراهیة الامساك فصل اول عن ابی هریرة ص ١٦٥. ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٢ وص ٩٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٥٣. ظفیر

فقط

په خپلو يتيمانو باندي زكات مصرفولى سى اوكه نه؟ سوال: (٣٨٦) دوه يتيمان بچى ديوه خپل سره اوسيږى كه چيرى دزكات دروپو څخه داشخص دغه بچوته چى جامى جوړى كړى نوزكات يې اداء كيږى اوكه نه اداء كيږى؟

جواب: دزكات په روپو دغه بچوته جامى جوړول او وركول يې درست دى اوزكات يې اداء كيږى (١). فقط

عيالداره ښځى ته زكات وركول څنګه دى؟ سوال: (٣٨٧) داسى ښځى ته زكات وركول روا دى اوكه ناروا دكمى چى درى بچى وى اودخپل خاوند دعياشى ژوند تيرولو اودشراب څښلو په وجه په انتهايې تنګ دستى كى وى؟

جواب: دى ښځى ته چى كله هغه محتاجه وى اودنصاب خاونده نه وى دزكات وركول درست دى، بلكى داسى محتاجى اولاد داره ښځى ته زكات وركول زيات ثواب لرى. (٢) فقط

دسيد كونډه كله چى هغه بوډى وى هغې ته زكات وركول كيږى: **سوال**: (٣٨٨) يوه بوډى ښځه وى اودهغې خاوند سيدوى اومړسوى وى اوڅو بچى اوكونډه يې پريښى دى اوس دى ښځى ته زكات وركول جائزدى اوكه نه؟ ښځه انتهايې مفلسه ده اوزما دخپلوانو څخه ده، بله يوه ښځه ديتيمانو دقوم چى خاوند يې سيد دى ژوندى دى اوښځه مفلسه ده، دى ته زكات وركول جائزدى اوكه نه؟ اوزكات دروپو په حواله كولو سره اوپه ليږلو سره اداء كيږى اوكه نه؟

جواب: دى دواړو ښځو ته كله چى مفلس دى زكات وركول درست دى دخاوند دسيدوالى په سبب چى ښځه پخپله مفلسه وى اودنصاب مالكه نه وى زكات وركول ورته منعه نه دى بلكى زكات يې اداء كيدلى سى اوخپلوان مفلس ته په زكوٰة وركولو كى ثواب زيات دى، اوغير داولاد، مور، پلار اودښځى او دخاوند څخه نور ټولو خپلوانو ته چى مفلس وى زكات وركول صحيح دى (٣). اودروپو دحواله كولو په ذريعه دزكات روپى په ليږلو

---

(١). ولا الى من بينهما ولاد (درمختار) وقيد بالولاد لجوازه لبقية الاقارب كالاخوة والاعمام والاخوال الفقراء بل اولى لانه صلة وصدقة الخ (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٢) . ظفير

(٢). مصرف الزكوٰة الخ هوفقير وهو من له ادنٰى شيئ اى دون نصاب اوقدر نصاب غير نام مستغرق فى الحاجة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ و ٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفير

(٣). ومصرف الزكوٰة الخ هوفقير هومن له ادنٰى شيئ اى دون نصاب اوقدر نصاب غيرتام مستغرق فى الحاجة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف زكوٰة ج٢ ص ٧٩ و ٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩) ولاالى من بينهما ولاد (درمختار) قيد بالولاد لجوازه لبقية الاقارب الخ بل هم اولى لانه صلة وصدقة (ردالمحتار باب =

سره هم زکات اداء کيدلی سی. فقط

کم طالب العلم چې پلار يې دنصاب مالک وي ده ته زکات ورکول څنګه دي؟ سوال: (٣٨٩) يو طالب العلم چې ددرې يادځلورو ميلو په اندازه دعلم دطلب دپاره سفر کړی دی ليری وی دخپل کور څخه اوهلته په کورکی دی دنصاب خاوند وی خودلته ورسره نه وی، نو آيا دزکات داخيستلو حقداره دی اوکه نه؟

جواب: ده ته دزکات اخيستل جائزدي. قال فی الدر المختار وابن السبيل وهو کل من له مال لامعه وفی الشامی، والحق به کل من هو غائبٌ عن ماله وان کان فی بلد لان الحاجة هی المعتبرة وقد وجدت لانه فقير يداً وان کان غنيًا ظاهرًا الخ (١)، ص ٢٢ ص ٢٨ جلد ثانی شامی. فقط

دزکوٰة روپی دمدرسی په فرش لګولی سی اوکه نه؟ سوال: (٣٩٠) دزکوٰة دروپو څخه دمدرسی په فرش باندی لګول يې جائزدی اوکه نه؟

جواب: دزکات دروپو څخه دمسجد فرش يامدرسه جوړول درست نه دی زکات په دی کی نه اداء کيږی (٢). اوحيله دجواز دضرورت په وخت کی داده چې هغه اول يوداسی سړی ته په ملکيت کی راولی چې هغه دنصاب مالك نه وی بيايې هغه شخص دخپل طرف څخه په دی روپو جوړولی سی. هکذا فی کتب الفقه (٣). فقط

کسب ګرو سوال ګرو ته زکات ورکول څنګه دي؟ سوال: (٣٩١\١) داسی کسبی ګدا که څه هم محنت اومزدوری کولی سی دزکات روپی ورکول ورته جائزدی اوکه نه؟

په فقيرانو خيرات تقسيمول: **سوال**: (٣٩٢\٢) په اکثره ځايونو کی دپنجشنبی په ورځ فقيرانو ته غله، روپی تقسيم کيدلی اوپه فقيرانو کی حقدار اوغير حقدار ترمنځ فرق هم نه سی کيدلی نوپه دی طريقی سره خيرات کول جائزدی اوکه ناجائز اوپه داسی خيرات څه ثواب حاصليدلی سی اوکه نه؟

هغه سوالګر چې روپی په ناروا کارونو کی مصرفوی دوی ته ورکول څنګه دي: **سوال**: (٣\٣٩٣) دکمو ګداګرو په حق کی چې غالب ګمان داوی چې هغه دخلګو خيرات يازکات اخلی اوپه ناروا کارونو کی يې مصرفوی نو دغه خلګوته خيرات يا زکات ورکول ګناه ده

= المصرف ج٢ ص ٨٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٢). ظفير

(١). ايضا ج٢ ص ٨۴ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴٣. ظفير

(٢). ويشترط ان يکون الصرف تمليکا لااباحة ولا لصرف فی نحو بناء مسجد ولا الی کفن ميت الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴۴). ظفير

(٣). وحيلة التکفين ان يتصدق بها علی فقير ثم هويکفن الثواب لهما وکذا فی تعمير المسجد(ايضا کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفير

او که نه؟

دزكات ښه مصرف: **سوال**: (٣٩٤\١٤) دزکات ښه مصرف په موجوده وخت کی دزمانی دحالت په لحاظ سره څه دی؟

په مکاتب اوجوماتونو کی یې مصرف کول څنګه دی؟ **سوال**: (٣٩٥\١٥) دزکوٰة روپی په مکاتب اوجوماتونو اوپه یتیم خانو باندی مصرف کول څنګه دی؟

طالبانو ته دزکوٰة دمال څخه وظیفی ورکول څنګه دی؟ **سوال**: (٣٩٦\١٢) دزکات دروپو څخه طالبانو ته وظیفی ورکولی سی اوکه یې نه سی ورکولی؟

جواب: اولاً یوڅو شیان تمهیداً لیکل کیږی دهغه څخه وروسته دسوالونو جوابونه په لمبر سره به ولیکل سی.

١. تمهید : دزکات اودواجبو صدقاتو مصارف فقیران اومسکینان اوداسی نوردی لکه چی په دی آیت کریمه کی چی ذکر سویدی. انما الصدقات للفقراء والمساکین ([1]). الخ . الآیة

٢. په زکوٰة اوواجبو صدقو کی تملیك یعنی مالك جوړول شرط دی ځکه چی په للفقراء کی دلام څخه دغه مطلب افاده کیږی ځکه چی دالام دتملیك دی او فقهاء احنافو په دی باندی تصریح کړیده چی په زکات کی دمحتاج مالك جوړول شرط دی په کم ځای کی چی تملیك نه سی راتلای هلته دمال په صرف کولو سره زکات نه اداء کیږی دمساجدو ابادول یا یې مرمت کول یا دمدرسی جوړول اوداسی نور، یا دمړی تکفین چی په دی شیانو کی په مال مصرف کولو سره زکات نه اداء کیږی. ([2])

٣. داچی په کم مصارفو کی په لګولو سره زکات نه اداء کیږی لکه دجومات ابادول، دمړی تکفین اوداسی نور په دی کی دلګولو دپاره فقهاء داحیله لیکلی ده، چی اول یو داسی سړی ته دزکات رقم ورکړی چی دنصاب مالك نه وی وروسته دمالك کیدلو څخه هغه سړی چی دنصاب مالك نه دی دزکات رقم په خپل ملکیت کی راولی بیا ددغه وروسته هغه دی دخپل طرف څخه دمسجد په ابادولو اومرمت کولو، دمړی په تکفین وغیره کی مصرف کړی، کما فی الدر المختار: وحیلة التکفین بها التصدق علی فقیر ثم هو یکفن فیکون الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد ([3])، اودمړی دپاره دکفن ورکولو

([1]). سورة توبه. ظفیر

([2]). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لااباحة لایصرف الی نحو بناء مسجد ولا الی کفن میت (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٤). ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢، ط. س. ج٢ ص ٢٧١ . ظفیر

حیله داده چي یو فقیرته دي دزکات مال ورکړي بیا دي هغه دخپل طرف څخه دمړي په کفن کي مصرف کړي بیابه حاصل سي ثواب ددواړو دپاره اوهمدغه حیله ده په تعمیر دمسجد اونورو کي دلګولو اوشامي ویلي دي چي ددواړو دثواب حاصلولو مطلب دادي چي دزکات ورکونکي ته دزکات ورکولو ثواب حاصل سو اودکفن اچولو یعنی ورکولو ثواب فقیر ته حاصل سو ځکه چي هغه دخپل طرف څخه کفن ورکی (١)، اودایي هم ویلی دي چي ورکوونکي دزکات ته هم ثواب دی ځکه چي په حدیث شریف کي راغلی دی. الدال علی الخیر کفاعله (٢)، داروایت په طحاوی کي دی، اوامام سیوطی په جامع صغیر کي داروایت نقل کړیدی، لومرت الصدقة علی یدی مائة لکان لهم من الاجر مثل اجر المبتدی من غیر ان ینقص من اجره شیئًا (٣). (ترجمه) که چیری صدقه پرسلو لاسونو تیره سی نوهر یوه ته په هغه کي داولنی ورکوونکي برابر ثواب کیږي بغیر ددی څخه چي داول ورکوونکي په ثواب کي څه کمي راسی اوپر سل لاسونو دتیریدو دامطلب دی چي صدقه ورکونکي چاته صدقه ورکړي بیایي هغه دوهم ته ورکړي اوهغه یي دریم ته ورکړي په همدی طریقی سره سلسله روانه وی.

۴. داچي څوك محتاج وګڼي زکات ورکړي او وروسته ثابته سي چي کم چاته زکات ورکول سوی دی هغه غنی دنصاب خاوند دی نوزکات اداء سو دوهم وار ورکول یي لازم نه دی او دورکوونکي پوره ثواب حاصل سو په درمختار کي دی چي: دفع بتحر لمن یظنه مصرفا فبان عبده الخ اعاد وان بان غناه الخ لا یعیده (٤)، ددی حاصل دادی چي که چیری په خپل ګمان یوڅوك دزکات مصرف وګڼي اوهغه ته زکات ورکړي نوکه چیری وروسته معلومه سی چي هغه دزکات ورکوونکي غلام دی نوزکات اداء نسو دوباره دی اداء کړي اوکه دهغه غنی والی او دنصاب مالك والی ظاهر سو نو زکات یي اداء سو دوباره یي ورکول ضروری نه دی، او په مشکوٰة شریف کي دحضرت ابو هریره ﷺ په روایت دصحیح بخاری اومسلم څخه نقل کړیدی:

أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : قَالَ رَجُلٌ لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ سَارِقٍ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ عَلَى سَارِقٍ فَقَالَ اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ

---

(١). ای ثواب الزکوٰة للمزکی وثواب التکفین للفقیر (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفیر

(٢). و (٣). ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢، ط. س. ج٢ ص ٢٧١. ظفیر

(٤). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٣. ظفیر

فَوَضَعَهَا فِي يَدَيْ زَانِيَةٍ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى زَانِيَةٍ فَقَالَ اللّٰهمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى زَانِيَةٍ لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدَيْ غَنِيٍّ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ عَلَى غَنِيٍّ فَقَالَ اللّٰهمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلىٰ سَارِقٍ وَعَلىٰ زَانِيَةٍ وَعَلىٰ غَنِيٍّ فَأُتِيَ فَقِيلَ لَهُ أَمَّا صَدَقَتُكَ عَلَى سَارِقٍ فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعِفَّ عَنْ سَرِقَتِهِ وَأَمَّا الزَّانِيَةُ فَلَعَلَّهَا أَنْ تَسْتَعِفَّ عَنْ زِنَاهَا وَأَمَّا الْغَنِيُّ فَلَعَلَّهُ يَعْتَبِرُ فَيُنْفِقُ مِمَّا أَعْطَاهُ اللهُ . متفق عليه ولفظه للبخاری [1]. ددی حدیث پاك څخه لکه څنګه چی غنی ته دبی علمی په وجه زكات اونور صدقات دورکولو علم دی همدا رکم ددی څخه داهم معلومه سوه چی غل او زناکاری ته دبی علمی په وجه په زکات اوصدقات ورکولو سره ثواب حاصل سو اوزكات سویدی اوپه شامی کی دی چی څوك چی زکات ورکوی، که چیری هغه دفقیرانو او مفلسانو په صورت سره وی یا دفقیرانو سره یوځای راغی، یادده څخه سوال وکی اوپه دی سره زکات ورکونکی ده ته زكات ورکړی نوزکات اداء سو که څه هم وروسته ښکاره سی چی هغه مالداره وو، اودزکات مصرف نه وو، دشامی عبارت دادی:

واعلم أن المدفوع إليه لو كان جالسا في صف الفقراء يصنع صنعهم أو كان عليه زيهم أو سأله فأعطاه كانت هذه الاسباب بمنزلة التحري ، وكذا في المبسوط حتى لو ظهر غناه لم يعد . [2]

٥. داچی تندرست دګټی اودکسب کولو طاقت لرونکی ته یا داسی سړی ته چی دهغه سره دیوی ورځی دخوړلو خوراك وی سوال كول ورته حرام دی اوروغ اودکسب اودګټیلو طاقت لرونکی ته دبعضی علماوو په نزد ورکول هم ګناه ده لیکن طالب العلم وغیره ته چی دعلم حاصلولو په وجه مشغول وی چی روغ جوړ اودکسب دطاقت كيدلو سره ورته ورکول اوهغه ته یې اخیستل صحیح دی، په درمختار کی دی:

ولا يحل أن يسأل شيئا من القوت من له قوت يومه بالفعل أوبالقوة كالصحيح المكتسب، ويأثم معطيه إن علم بحاله لاعانته على المحرم ولو سأل للكسوة أو لاشتغاله عن الكسب بالجهاد أوطلب العلم جاز لومحتاجا. [3]

اودبعضو په نزد ددی دپاره قیدلګول چی بعضو فقهاء وو ویلی دی چی که څه هم قیاس ددی تقاضا کوی چی داسی خلګو ته یې ورکول ګناه ده لیکن دهبی په تاویل سره ورته جائز ويل كيدلى سی اوغنی اوغیر محتاج ته په هبه کولو کی ګناه نسته لیکن ښکاره ده

---

[1]. مشکوٰة باب الاتفاق وكراهية الامساك فصل اول عن ابی هريرة ﷺ ص ١٦٥. ظفير
[2]. ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٣. ظفير
[3]. الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٤. ظفير

چی په زکات کی داتاویل نه چلیږی مقصد حاصل دادی چی دپوهنی باوجود یې ورکول نه دی په کار اوکه دبی علمی په حالت کی یې ورکړی نوپه هغه نیول نسته ددی تمهیداتو څخه وروسته دسوالونو جوابونه لاندی په تفصیل سره نمبر واردی :

۱\ : که چیری هغه ګداګر په هغه حالت کی محتاجه معلومیدی نودزکات دورکولو سره زکات اداء کیږی که څه هم په حقیقت کی هغه مستحق نه وو. (۱)

۲\ : ورکوونکی ته د: انما الاعمال بالنیات. په قاعده سره ثواب حاصل سو اوزکات هم اداء کیږی.

۳\ : که غالب ګمان داسی وی نوبی شکه هغه ته خیرات اوزکات ورکول ناجائز دی اوګناه ده ځکه چی داپه نافرمانی باندی مرسته کول دی اوپه معصیت باندی کومك کول حرام دی. قال الله تعالیٰ وتعاونوا علی البر والتقوٰی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان. (المائدة: ع۲).

۴\ : ددین طالبان په دی زمانه کی دزکات ښه مصارف دی لکه څنګه چی په فی سبیل الله کی فقهاء وو طالب العلم داخل کړیدی اوطالبان په ابن السبیل کی هم داخل دی (۲). او نبی کریم ﷺ ددین دطالبانو په باره کی دښه اخلاقو اوداحسان کولو وصیت فرمایلی دی اوتاکید یې فرمایلی دی، دانس رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی: من خرج في طلب العلم فهو في سبيل الله (۳) ، وعن ابي سعيد الخدري قال قال رسول الله ﷺ ان الناس لكم تبع وان رجالاً ياتونكم من اقطار الارض يتفققهون في الدين فاذا آتوكم فاستوصوا بهم خيراً. رواه الترمذی (۴).

۵\ : دمساجدو حکم ددوهم تمهید څخه معلوم سو چی دزکات مال دجوماتونو په تعمیر اومرمت کولو اودفرش اچولو اوپه نورو ضروریاتو دمساجدوکی مصرف کول یې صحیح نه دی مګر ذکر سوی حیله چی په دریم تمهید کی بیان سوه (کولی سی) لیکن مکاتب او دینی مدارسو اویتیم خانو ته، طالبانو اویتیمانو غریبانانو ته زکات ورکول درست دی او دښه مصرفونو له جملی څخه دی. (۵)

۶\ : ورکولی یې سی (۶) . فقط

---

(۱). واعلم أن المدفوع إليه لو كان جالسا في صف الفقراء يصنع صنعهم أو كان عليه زيهم أو سأله فأعطاه كانت هذه الاسباب بمنزلة التحري، وكذا في المبسوط حتى لو ظهر غناه بعد لم يعد. (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۹۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۲). ظفير

(۲). و(۳). مشكوٰة المصابيح كتاب العلم فصل ثانی ص ۳۴. ظفير

(۴). حواله یې تیره سویده.

(۵). و(۶). وفی سبيل الله الخ وقيل طلبة العلم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۳). ظفير

دنَوټه (١) څخه پاته روپۍ دنصاب برابري وي مګر وصول سوی نه وي نوزکات ورکړی اوکه نه؟

سوال: (٣٩٧) دیوسړی سره دنَوټې روپۍ دی چې نصاب ته ورسیږی اوپه هغه معلوم وخت ورته حاصل سی لیکن په دی وخت کی هغه فقیر اومسکین وی یوسړی ته ده دزکات روپۍ ورکړی دی آیا ددی زکات اداء کړی اوکه نه؟

جواب: دنوټې روپۍ چې دچا په ذمه وی چې دهغه په نه راتللو او وصول کیدلو اونه کیدلو کی شك وی ددی دپاره که چیری ددی زکات ورکړی اداء کیږی ځکه چې په اول کی هغه فقیر وو. (٢) فقط

دکم عالم سره چې کتابخانه وی هغه ته دزکات اخیستل څنګه دی؟ **سوال:** (٣٩٨) دزکات مال هغه عالم ته چې نقدی ورسره بالکل نه وی مګر کتاب خانه یې جمع کړیده اخیستل ورته جائز دی اوکه نه؟

جواب: زکات اخیستل ورته درست دی اوکه چیری دیوی نسخی څخه زیات وی دهر کتاب نسخه چې وی که فقه یاحدیث یاتفسیر یا دنور دینی علومو دفنونو لکه معقولاتو اوتاریخ وغیره کتابونه چې دنصاب په اندازه وی نوهغه ته زکات اخیستل درست نه دی په شامی کی یې داتفصیل مذکوره لیکلی دی ، او داهم پکښی دی چې که کتابونه دتجارت په نیت نه وی هغه دعالم سره وی اوکه دغیر عالم سره او دضرورت موافق وی یا زیات وی په هغه باندی زکات واجب نه دی اوداسړی چې دکم سره کتابونه دی دزکات اخیستلو اودنه اخیستلو په باره کی هغه تفصیل دی کم چې پورته لیکل سویدی. (٣)

ورونو او خوندو ته زکات ورکول جائزدي اوکه نه؟ **سوال:** (٣٩٩) یوسړی دمور اودپلار په ژوندکی صاحب زکوٰة، دسختی زندګی اودلویی کورنی اودلږ امدنی خپل نابالغه ورور

---

(١). دنَوټَه معنی او تشریح په صفحه ٢١ حاشیه نمبر (٢) کی تیره سویده هلته یې وګوره. حقانی"

(٢). ویجوزصرفها الی من لایحل له السوال اذالم یملك نصابا (عالمګیری مصری باب المصارف ج١ص١٨٩). ظ

(٣). ولا زكاة في ثياب البدن ؒ ودور السكنى ونحوها) وكذا الكتب وإن لم تكن لاهلها إذا لم تنو للتجارة، غير أن الاهل له أخذ الزكاة وإن ساوت نصبا، إلا أن تكون غير فقه وحديث وتفسير، أو تزيد على نسختين منها هو المختار ؒ وفي الاشباه لفقيه لا يكون غنيا بكتبه المحتاج إليها إلا في دين العباد فتباع له (درمختار) استدراك على التعميم المأخوذ من قوله: وإن لم تكن لاهلها أي إن الكتب لا زكاة فيها على الاهل وغيرهم من أي علم كانت لكونها غير نامية، وإنما الفرق بين الاهل وغيرهم في جواز أخذ الزكاة والمنع عنه، فمن كان من أهلها إذا كان محتاجا إليها للتدريس والحفظ والتصحيح فإنه لا يخرج بها عن الفقر، فله أخذ الزكاة إن كانت فقها أو حديثا أو تفسيرا ولم يفضل عن حاجته نسخ تساوي نصابا، كأن يكون عنده من كل تصنيف نسختان، وقيل ثلاث لان النسختين يحتاج إليهما لتصحيح كل من الاخرى، والمختار الاول: أي كون الزائد على الواحدة فاضلا عن الحاجة، وأما غير الاهل فإنهم يحرمون بالكتب من أخذ الزكاة ؒ (ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٠ – ١١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢۴ و٢٢۵). ظفير

اوخوندوته كله چې دخوراك اودجامې څخه تنګ سوی وی نوهغه دوی ته زكات وركولی سی اوكه نه؟ اوكه چيری مور اوپلار صاحب زكات نه وی نوپه دی صورة كی هغه خپلو ورونو اوخپلوانو ته چې نابالغه وی زكوٰة وركړی اوكه نه؟

جواب: ورونه اوخوندی چې كله مالكې نه وی نوبيا كه څه هم مور اوپلار يې غنې هم وی بيا هم هغوی ته زكات وركول درست دی. فقط (وكذا الى البنت الكبيرة اذا كان ابوها غنيا لان قدر النفقة لا يغنيها وبغنى الاب والزوج لا تعد غنية كذا فى عالمگيرى ([1]) باب المصرف ج١ ص ١٨٩. ظفير)

دمياشتې امدنې كافې ده مګر دنصاب مالک نه دی دزكات اخيستل ورته څنګه دی؟ سوال: (٤٠٠\١١) دكم سړی چې مياشتنی امدنی معقوله وی لكن دكال په تيريدلو سره دنصاب په اندازه جمع نسی پاته كيدلی اوهغه دنصاب مالك وی داسی شخص ته زكات يانفلی صدقه وركول او دهغه دپاره يې اخيستل څنګه دی؟

په مسلمان سپاهي باندې دزكات درقم څخه لګښت كول څنګه دی؟ سوال: (٤٠١\٢) په جنګ كی يومسلمان سپاهی زخمی سويدی دهغه دضرورت سامان يې دزكات دمال څخه واخيستی اووی ليږی يايې نغدی روپې دهغه دپاره وليږلی چې دهغه په ضرورياتو كی يې مصرف كړی درست دی اوكه نه دی زكات اداء كيدلی سی اوكه نه؟

جواب: \١: ده ته دزكات مال يانفلی صدقې وركول درست دی اوهغه ته يې اخيستل هم جائز دی ([2]).

٢\: په زكات كی دفقير تمليك ضروری دی يعنې مالك جوړول دداسی شخص چې هغه دنصاب مالك نه وی لازمی ده نو كه چيری دزخمی سړی ورته دنصاب دمالك نه كيدلو يقين وی نوزكات اداء سو اوكه يقين يې نه وی نونه اداء كيږی ([3]). فقط

دزكات په روپو يې وريجې واخيستې فقيرانو ته چې خير غوښتونكې دی په وركولو سره يې زكات اداء كيدلی سی: **سوال**: (٤٠٢) دزكات دروپو څخه يې وريجې واخيستې ټول كال يې فقيرانو اوخير غوښتونكو ته وركولی په دې سره زكات اداء كيدلی سی اوكه نه؟

جواب: اداء كيدلی سی ([4]). فقط

([1]). ولا الى من بينهما ولاد (درمختار) قيد بالولاد لجوازه لبقية الاقارب كالاخوة والاعمام والاحوال الفقراء بل هم اولى لانه صلة وصدقة (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٢). ظفير

([2]). ويجوز دفعها الى من يملك اقل من النصاب وان كان صحيحا مكتسبا كذا فى الزاهدى (عالمگيرى باب المصارف ص ١٨٩). ظفير

([3]). ويشترط ان يكون الصرف تمليكا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٤). ظفير

انجمن یا مدرسي ته زکات ورکول درست دي اوکه نه دي؟ سوال: (۴۰۳) انجمن اسلامی مدرسی ته زکوٰة ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: په زکات دفقیرانو مالك جوړول ضروری دی بغیر ددی څخه زکات نسی اداء کیدلی (١)، نوکه چیری په انجمن کی طالبان محتاج وی نوهغوی ته زکات ورکول درست دی او دانجمن ملازمینو اووعظ کوونکو ته څینی تنخواه ورکول دزکات څخه صحیح نه دی په دی کی زیات احتیاط کول په کاردی دزکات مال یوازی دمحتاجانو په ملك کی بغیر دعوض څخه راوستل په کاردی دانجمن په مختلفو اخراجاتو کی دزکات په مال لګولو سره زکات نه اداء کیږی اواسلامی مدرسوته چی کم دزکات روپی راسی هغه هم خاص دمسکینانو طالبانو په خوراك اولباس کی لګول کیږی دکم مدرس اوملازم په تنخواه کی ورکول یاپه تعمیر وغیره کی یې مصرف کول دا درست نه دی. فقط

بغیر دتملیک څخه دپخلي دځای څخه خوراک ورکول څنګه دي؟ سوال: (۴۰۴) که چیری دمدرسی مهتمم دزکات دروپو څخه دپخلی ځای جوړ کړی اوبغیر دتملیك څخه دمدرسی طالبانو ته خوراك ورکوی نوپه دی صورت کی تملیك کیدی سی اوکه نه؟ حالانکی طالبانو ته دا اختیار نه وی چی هغه یې دخپل خوراك لپاره واخلی اویا چاته چی وغواړی په هغوی یې وخوری، که چیری نه کیږی نوکم داسی صورت دی چی په هغه سره دزکات روپی په خپل مصرف کی ولګوی.

جواب: په زکات کی تملیك ضروری دی او دا صورت چی طالبان یې وخوری یا یې په چا وخوری چی کم تاسی لیکلی دی دتملیك صورت نه دی په دی طریقه زکات نه اداء کیږی ددی تدبیر دادی چی اول نغدی روپی یا اجناس دزکات په تملیك کی راولی بیایې دده طرف څخه په مدرسه کی داخلی کړی، په طالبانو دی خوراك وخوړل سی (٢).

دبنګو او دافینو عملي ته زکات ورکول کیږي اوکه نه؟ سوال: (۴۰۵) یوسړی انتهایې مفلس او غریب دی لیکن دبنګو او دافیونو او دنورو دحد مرتکب دی نو دیته زکات ورکول شرعا جائزدی اوکه نه؟ په تنبیه الغافلین کی یې دا حدیث لیکلی دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی: من اطعم شارب الخمر لقمة سلط الله علیه حیة وعقربًا فی قبره (٣).

---

(۴). وجاز دفع القیمة فی زکوٰة وعشرالخ (ایضا باب الغنم ج٢ ص ٢٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨٥). ظفیر
(١). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا (ایضا باب المصرف ج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴۴). ظفیر
(٢). وحیلة التکفین ان یتصدق بها علی فقیر ثم هو یکفن فیکون الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفیر
(٣). تنبیه الغافلین للسمرقندی باب الزجر عن شرب الخمر ص ٧٣. ظفیر

جواب: داښکاره خبره ده چې صدقات اوخیرات نیکانو ته ورکول ښه دی لکه څنګه چې راغلی دی. ولیاکل طعامکم الابرار، یعنی په کارده چې ستاسی طعام نیکان وخوری، لیکن نافرمان اوفاجر، شراب څښونکی که چیری مفلس وی هغه ته دزکات په ورکولو سره زکات اداء کیدی سی که څه هم ښه داده چې صالحو فقیرانو ته ورکول سی، او د مذکوره کتاب څخه چې کم حدیث نقل دی، ددی حال بنده ته معلوم نه دی چې هغه ثابت دی اوکه نه دی، که چیری ثابت وی نو دهغه دامطلب کیدلی سی چې شرابی ته څوك دمحبت سره څه خوړل اوڅښل ورکړی نو دداسی وعدی حقداردی، په هرحال سره دزکات په اداء کولوکی یې څه تامل نسته ښه والی اونه ښه والی جلا خبره ده اومفلس اومحتاج که څه هم فاسق وی ده ته په ورکولو یې هم ثواب سته لکه څنګه چې واردډی چې هرروح لرونکی ته په ورکړه کی اجر اوثواب سته (١). فقط

(البته که چیری دایقین وی چې هغه دارقم په شراب څښلو لګوی نوبیا ورلره ورکول درست نه دی. ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان. دباری تعالٰی ارشاد دی. ظفیر)

که څوک په خپل کورکی دنصاب خاوند وی اودی په پردی وطن کی دغریبی او دمجبوری په حالت کی وی نو زکات اخیستلی سی اوکه نه؟ سوال: (۴۰۶) که یو سړی په خپل ځای کی دنصاب مالك وی اودوطن څخه بهر سل دوه سوه روپې قرض ورباندی وی هلته دنصاب مالك نه وی بلکی لاس یې تنګ وی اوامامت کوی ددی څخه غیر یې بله څه ذریعه دګذران نه وی داسی سړی ته دزکات، سرسایه اودقربانی دڅرمن روپی اخیستل جائزدی اوکه نه؟

جواب: مسافر که په سفر کی لاس تنګی وی هغه ته زکات وغیره ورکول اواخیستل درست دی (٢) لیکن دمسجد امام ته دامامت په وجه زکات اوصدقه فطر او دقربانی دڅرمنی روپی اخیستل او ورکول درست اوصحیح نه دی (٣).

لورته زکات ورکول څنګه دی؟ سوال: (۴۰۷) زید دخپلی لورنکاح دبکرسره وکړه بکر قرض داره دی په دی وجه دښځی دنفقی تحمل نسی کولی ، که چیری زید خپلی لور ته زکات

---

(١). مصرف الزکوٰة الخ هو فقیر هومن له ادنٰی شیئ ای دون نصاب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفیر

(٢). وابن السبیل وهو کل من له مال معه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨۴ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴٣). ظفیر

(٣). الاصل فیه قوله تعالی انما الصدقات للفقراء والمساکین الخ (هدایه ج١ ص ١٨٢) وعن انس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ وافضل الصدقة ان تشبع کبداً جائعا. قال الطیبی یعم المومن والکافر والمنافق وغیره آه (مرقات المفاتیح باب افضل الصدقة ج٢ ص ۴٨٩). ظفیر

ورکی نوجائز دی اوکه ناجائز؟

جواب: خپلی لور ته زکات ورکول جائز نه دی، په درمختار کی دی. ولا الی من بینهما ولادة الخ. باب المصرف ([1]). فقط

مستحق خپلوان لمونځ گذاره نه دی او غیر رشته داره لمونځ گذاره دی نوزکات چاته ورکړی؟ **سوال**: (۱\۴۰۸) دوه قرابت لرونکی تندرسته مسلمانان مسکین عیالداره بی نمازه ته زکات ورکول جائزدی اوکه نه؟ اوپردی لمونځ گذاره ددغه خپلوانو بی نمازه ښخه ښه دی اوکه نه دی؟

بدعتی ته زکات ورکول صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۲\۴۰۹) کم ناپوه مسلمان چی داسلام دارکانو ښخه خبرنه وی په تعزی کولو اوپه نورو شیانو کی په بدعاتو کی اخته وی ده ته زکات ورکول جائزدی اوکه نه دی جائز؟

جواب: ۱\: خپلوانو ته کم چی محتاج وی هغوی ته زکات ورکول زیات ثواب لری او دلمانځه په ورته نصیحت کوی اوکه چیری هغه عمل ونه کی نو پرهغه باندی گناه ده ([2]).

۲\: هغه جاهلان چی ضرورتمند اوفقیران دی هغوی ته زکات ورکول جائز دی ([3]). فقط

په موجوده وخت کی سید ته زکات ورکولی سی اوکه نه؟ سوال: (۴۱۰) په دی زمانه کی چی خلگو دخمس نوم هم هیر کړی دی، درسول الله ﷺ غریبی اولادی ته دحضرت امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد زکات ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: داحنافو صحیح مذهب دادی چی په دی زمانه کی چی خمس الخمس هم بنی هاشمو ته ورنه کول سی بیاهم زکات ورکول دوی ته یعنی ساداتو بنی هاشمو ته درسته نه ده لکه څنگه چی په درمختار کی دی: ولا الی بنی هاشم (الی ان قال) ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع (در مختار) یعنی سواء فی ذالك كل الازمان وسواء فی ذالك دفع بعضهم بعض غیرهم لهم الخ، ردالمحتار شامی جلد ۲ باب المصرف ([4]). فقط

مسجد، مدرسه اوزوم ته زکات ورکول څنگه دی؟ سوال: (۴۱۱) دجومات او دمدرسی په تعمیر کی دزکات لگول څنگه دی؟ زوم که چیری غریب وی هغه ته یې ورکول څنگه دی؟

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۷ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲. ظفیر

([2]). ولاالی من بینهما ولاد (درمختار) وقید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب کالاخوة والاعمام والاحوال الفقراء بل هم اولی لانه صلة وصدقة وفی الظهیریة ویبدا فی الصدقات بالاقارب ثم الموالی ثم الجیران الخ (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲). ظفیر

([3]). مصرف الزکوٰة الخ هوفقیر وهومن له ادنٰی شیئ ای دون النصاب الخ (ایضا ج۲ ص ۷۹ وص۸۰ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹). ظفیر

([4]). وگوری ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۹۰ وص ۹۱ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۰. ظفیر

که څه هم دهغه کونډه دنصاب مالکه وی، یا یو مستحق ته یې ورکړی، یا غریبانو ته خوراك ورکړی؟

جواب: په جومات اوپه مدرسه کی دزکات مصرفول درست نه دی ([1]) او اولاد ته یې ورکول هم درست نه دی، ([2])، اوزوم که چیری دنصاب مالك نه وی نوهغه ته یې ورکول درست دی ([3]) اوکه نورو حقدارانو یعنی فقیرانو اومسکینانو اویتیمانو ته یې ورکول هم درست دی اوپه دی روپو خوراك پخول اوتقسیمول اوورکول یې هم درست دی مگر دا چی خوراك ته به یې کښینوی نه اونه دی په خوری بلکی په هغوی دی تقسیم کړی او مالك دی جوړ کړی بیایې خوښه چی دلته یې خوری اوکه دځان سره یې اخلی ([4]). فقط

خوریی ته زکات ورکولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۴۱۲) دیوه سړی سره دوه نیم سوه روپی نغدی دی دمصرف څخه علیحده دومره اندازه گینه ده مگر په استعمال کی یې نه راولی نودا سړی دخپل مال دزکات فیصدی (۲) نیمی روپی په سلو کی ایستلی خپل خوریې ته یې ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: دټولو زیوراتو اودنغدو زکات په حساب دسیکړی ورکول په کاردی خوریی چی محتاج اومفلس دی هغه ته زکات ورکول درست دی ماما دخپل مال څخه زکات خپل خوریې ته ورکولی سی ([5]). فقط

دجومات په ځاه کی دزکات روپی لگول څنگه دی؟ **سوال**: (۴۱۳\۱) یوکوهی چی دجومات په نیمایې فرش کی دی، په دی کی دزکات روپی لگول جائزدی اوکه نه؟

دکلی په کوهی دزکات رقم نسی لگیدلی: **سوال**: (۴۱۴\۲) په کلی کی دیوکوهی ضرورت دی چی جوړسی، نوپه دی کی دزکات روپی لگول جائزدی اوکه نه؟

جواب: ۱\، ۲: په دواړو صورتونو کی په کوهی جوړولو کی دزکات روپی مصرف کول درست نه دی ([6]). فقط

([1]). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة ولا یصرف الی بناء نحو مسجد الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴). ظفیر

([2]). ولا الی من بینهما ولاد (درمختار) ای بینه وبین المدفوع الیه لان منافع الاملاك بینهم متصلة ﷻ ای اصله وان علا کابویه ﷻ وفرعه وان سفل ﷻ کاولاد الاولاد الخ ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲) . ظفیر

([3]). قید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب الخ (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲). ظفیر

([4]). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لااباحة (ایضا ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴). ظفیر

([5]). ولاالی من بینهما ولاد (درمختار) قید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب کالاخوة والاعمام والاحوال الفقراء بل هم اولی لانه صلة وصدقة (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲). ظفیر [باقی]

کونډې ته دزکات څخه تنخواه ورکول درست دي اوکه نه؟ سوال: (۴۱۵) چاچې دکونډې په نوم ماهانه تنخواه مقرره کړه اوداېي نيت وو چې داتنخواه به دزکات څخه ورکوی دکم چې آئنده اداء کول واجب دی، داکار روايې په دی حيثيت دزکات داداء کولو دپاره پوره کيدلی سی اوکه څنګه؟

جواب: دزکات داداء کولو دپاره داضروری ده چې کم وخت دی کونډې ته ماهواره څه ورکوی یا ددی دورکولو دپاره يې چې څه روپی مثلاً دټول کال په شپږو مياشتو کی جلا ايښی وی او دجلا کولوپه وخت کی يې دزکات نيت کړی وی، بيايې وخت په وخت که چيری دهغه څخه دغه کونډې ته څه ورکوی نوبيا دنيت کولو ضرورت نسته زکات اداء کيدی سی (١).

زکات دساداتو دپاره کله درست دي: **سوال**: (۴۱۶) په عامه توګه سره مشهوره ده چې دزکات اوصدقی مال دنبی کريم ﷺ دال دپاره حرام دی په دی حال کی چې يوه داويلی دی چې داسی مال درسول الله ﷺ اولادی ته په بعضی حالاتو کی مباح دی اوپه دی باب کی علماوو فتوٰی ورکړيده، نو ددی امر معلومول مقصود دی چې په کمو حالاتو کی دزکات اوصدقی مال دسادات بنی فاطمه لپاره حرام دی، اوکه مباح وی نوپه کمو حالاتو کی؟

جواب: مفتی په مذهب دادی چې ساداتو ته په دی زمانه کی هم زکات اونور واجبه صدقات لکه دقربانی دڅرمنی قيمت، سرسايه اوداسی نور ورکول حرام دی اوزکات وغيره نورڅه نه اداء کيږی په حديث پاك کی دی: قال رسول الله ﷺ ان هذه الصدقات انما هی اوساخ الناس وانها لا تحل لمحمد ولا لآل محمد، رواه مسلم (٢)، په درمختار کی دی. ولا الی بنی هاشم الخ فظاهر المذهب اطلاق المنع الخ، وهکذا فی الشامی، (نو داقول صحيح نه دی چې څوك دا وايې چې په بعضو حالاتو کی مباح دی اخيستل دوی لره دصدقاتو واجبه وو).

---

(٢). ويشترط ان يکون الصرف تمليکا لااباحة ولا يصرف الی بناء نحو مسجد ولا الی کفن ميت (ردالمحتار) (نحو مسجد کبناء القناطير والسقايات واصلاح الطوقات وکری الانهار والحج والجهاد وکل مالا تمليك فيه زيلعی (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴۴). ظفير

(١). وشرط صحة ادائها نية مقارنة له ای للاداء الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٨). ظفير

(٢). مشکوٰة باب عمن لا تحل له الصدقة فصل اول ص ١٦١. ظفير

دزكات روپی جمع كول اوهغه په تجارت كی لګول څنګه دی؟ **سوال**: (۴۱۷) كه چیری یو ځو دولت مند كسان یوځو زره روپی جمعه كړی اوځو فقیرانو ته یې وسپاری، په دی غرض داكار وكی چی هغه روپی به دضرورت مطابق دزكات حقدارانو ته وركول كیږی هغه خلګوكموته چی دزكات مال په سپارلو سره وركړل سوی دی هغوی دامال دزیاتوالی په غرض په تجارت كی ولګوی، آیا دا كولی سی اوكه نه؟

جواب: داجائز ده چی یوشخص یا ځوكسان دخپل مال دزكات روپی دزكات په نیت جلا كنبیږدی، یایې چاته وسپاری هغه سړی دضرورت مطابق دا دزكات رقم په فقیرانو اوپه مسكینانو باندی صدقه كوی (١) مګر دی سړی ته دادرسته نه ده چی دا دزكات مال په تجارت كی ولګوی. فقط

سل روپی یې امدنی ده او دری سوه یې لګښت نودی ته دزكات وركول څنګه دی؟ **سوال**: (۴۱۸) دیوه سړی سل روپی دكال آمدنی دمكان څخه ده او دده مصرف دكاله دری سوه روپی دی نو ده ته زكات وركول جائزدی اوكه نه؟

جواب: داسړی دزكات مصرف دی ده ته زكات وركول جائزدی (٢). كذافی الشامی. كتاب الزكات. فقط

دزكات حقدارته رقم ورنه كړی بلكی دده دكور په ترمیم كولو كی یې ولګوی نو زكات اداء سو اوكه نه؟ **سوال**: (۴۱۹) زید دزكات روپی بكر ته وركول غوښتل مګر بكر موجود نه وو زید دزكات روپی دبكر دمكان په ترمیم اونور ځه كی ولګولی اوبكرته یې خط ولیكی چی موږ دومره اندازه روپی ستاپه كار كی مصرف كړی دكم چی ستا څخه دوصول كولو دعوٰی نسته نوپه دی صورت كی زكات اداء كیدی سی اوكه نه؟

اجازه یې وكړه چی په دی كار كی یې ولګوه نوځه حكم دی؟ **سوال**: (۴۲۰) زید بكرته خط ولیكی چی دومره اندازه روپی ماستاسی په فلانی كار لګول وغوښتل اوستا څخه هیڅكله دوصول كولو اراده نسته بكر ولیكل چی همداسی وكړه بیا زید دزكات روپی په مكان وغیره كی په ترمیم باندی ولګولی په دی صورت كی زكات اداء سو اوكه نه؟

جواب: ١\١: په دی صورت كی زكات نه اداء كیږی بلكی داضروری ده چی بكرته اول هغه دزكات روپی وركول سی اوهغه یې په قطعی توګه مالك وګرځوی بیاكه هغه دخپل طرف څخه مكان جوړوی اوكه یا یې مرمت كوی (١).

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٠ – ٩١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٠. ظفیر

(٢). وشرط صحة ادائها نیة مقارنة له ای للاداء الخ اومقارنة بعزل ما وجب كله اوبعضه الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٨). ظفیر

\۲: په دی صورت کی هم زکات نه اداء کیږی، حاصل داچی چاته زکات ورکول کیږی نو هغه دی اول دهغه مالك وګرځوی په دی شرط چی هغه دنصاب مالك نه وی ([2]). فقط

دقربانی دڅرمنی اودصدقی روپی جمع کول اوټول کال یې په تدریج سره مصرف کول درست دی اوکه نه؟ **سوال:** (۴۲۱) دقربانی دڅرمنی قیمت او دسرسایی په جمع کولو سره ټول کال لږ لږ لګول یا دسرسایی روپی دوهم ځای ته لیږل درست دی اوکه نه؟

دسید قرض دزکات څخه اداء کیدلی سی اوکه نه؟ **سوال:** (\۴۲۲) دیو سید په غاړه دیو مسلمان قرض وو ایا هغه قرض دزکات دمال څخه اداء کیدلی سی؟

دمفلس هندو قرض دزکات څخه اداء کیدلی سی اوکه نه؟ **سوال:** (۴۲۳) دیومفلس هندو پر ذمه باندی دیو غریب مسلمان قرض وو، داقرض دزکات څخه اداء کیدی سی اوکه نه؟

جواب: \۱: درست اوصحیح دی ([3]). فقط

\۲، ۳: په دی دواړو صورتونو کی دزکات دروپو څخه قرض نه سی اداء کیدلی ([4]). فقط

په اروپایی ممالکو کی په تبلیغ باندی دزکات روپی لګول څنګه دی؟ **سوال:** (\۴۲۴) په اروپایی ممالکو کی داسلام داشاعت او دتبلیغ په کار کی دزکات روپی مصرف کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی کی زکوٰۃ نه اداء کیږی دزکات په باره کی پوره احتیاط ضروری دی په زکات کی دمحتاج مالك کول ضروری دی. ([5]) فقط

دحیلی په ذریعه په اصولو اوپه فروعو باندی زکات مصرفول څنګه دی؟ **سوال:** (\۴۲۵) دزکات ورکوونکی دخپل زکات دمال څخه خپلو اصولو اوفروعو ته کم چی دزکات

([1]). ولا الی غنی یملك قدر نصاب فارغ عن حاجة الاصلية (الدر المختار) قال في البدائع قدر الحاجة هو ما ذكره الكرخي في مختصره فقا ل: لا بأس أن يعطى من الزكاة من له مسكين، وما يتأثث به في منزله وخادم وفرس وسلاح وثياب البدن وكتب العلم إن كان من أهله وذكر في الفتاوى فيمن له حوانيت ودور للغلة لكن غلتها لا تكفيه وعياله أنه فقير ويحل له أخذ الصدقة عند محمد، وعليه الفتوٰى (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۷). ظفير

([2]). ولايخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج۲ ص ۱۵ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۰) ويشترط ان يكون الصرف تمليكا لااباحة (ايضا باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴). ظفير

([3]). وافتراضها عمری علی التراخي وصححه الباقاني وغيره. (ط. س. ج۲ ص ۲۷۱). ظفير

([4]). ولا الى بنى هاشم الخ ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع (درمختار) سواء فی ذالك كل الازمان وسواء فی ذالك دفع بعضهم لبعض ودفع غيرهم لهم (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۹۰ وص ۹۱ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۰) ولا تدفع الى ذمی لحديث معاذ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۹۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۱). ظ

([5]). ويشترط ان يكون الصرف تمليكا لايصرف الى بناء نحومسجد الخ (ايضا ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴). ظ

مصرف نه وی دبل سړی دمالك گرځولو په حيله زكات ورکولی سی اوکه نه؟ داسی حيله جوړول جائزدی اوکه نه؟ اوزكات يې اداء کيږی اوکه نه؟

جواب: دفقه دکتابونو څخه معلومه ده چی په دی صورت کی زکات اداء کيدلی سی لکه څنګه چی په درمختار کی دی: وقدمنا الحيلة ان يتصدق على الفقير ثم يامره بفعل هذه الاشياء الخ [۱] خوپه شامی کی دی چی په دی حيله باندی اصول اوفروعو ته زکات ورکول مکروه تحريمی دی. فرع: يكره ان يحتال فى صرف الزكوٰة الى والديه المعسرين بان تصدق بها على فقير ثم صرفها الفقير اليهما كما فى القنية قال فى شرح الوهبانية وهى شهيرة مذكورة فى غالب الكتب [۲] الخ ص ۲۳ شامى ج ۲.

زکوٰة په اسلامی عمارتونو باندی لګولی سی اوکه نه؟ سوال: (۴۲۶\) دزکات روپی په اسلامی مدرسو چی دينی يا دنيوی وی، دينی مشترکه يا په اسلامی بورډنګ هاوس يا دمساجدو څخه علاوه په نورو اسلامی عمارتونو باندی لګولی سی اوکه نه؟

په تبليغی جلسو باندی دزکوٰة مصرفول څنګه دی؟ سوال: (۴۲۷\) داسلامی تبليغ دپاره که چيری جلسی اومجلسونه جوړسی دکم مقصد چی فقط عوامو خلګو ته دحق دعوت وی ددی په اخراجاتو کی (دزکات مال) مصرفولی سی اوکه نه؟

دمبلغينو مقررول دزکات درقم څخه درست دی اوکه نه؟ سوال: (۴۲۸\) په دی وخت کی چی دناپوهی زور دی دمبلغينو تقرر دزکات دروپو څخه جائزدی اوکه نه؟

جواب: ۱\: دزکات روپی په دی تعميراتو نسی لګولی په زکات کی داشرط دی چی يو مسکين اومحتاج يې مالک وګرځوی که هغه مسکين طالب علم يابل يومحتاج [۳] وی.

۲\: په دي کاروکی هم دزکاة روپی نسی لګولی. [۴]

۳\: جائزنه دی [۵]. فقط

مدرس او طالب العلم ته دزکات اخيستل جائزدی اوکه نه دی جائز که چيری هغه غنی وی؟

سوال: (۴۲۹). قال فى الدر المختار ان طالب العلم يجوز له اخذ الزكوٰة ولوغنيا اذا فرغ نفسه لافادة العلم واستفادته لعجزه عن الكسب والحاجة داعية الى ما لا بد منه.

---

(۱). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۵. ظفير

(۲). ردالمحتار باب المصرف تحت قوله ولا الى من بينهما ولاد ج۲ ص ۸۷ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲. ظفير

(۳). ويشترط يكون الصرف تمليكا لااباحة لايصرف الى بناء نحو مسجدالخ (الدر المختار) كبناء القطر والسقايات واصلاح الطرقات وكرى الانهار والحج والجهاد وكل ما لاتمليك فيه زيلعى (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴). ظفير

(۴). و(۵). ددي دواړو دليل هم هغه دی کم چی لوړ نقل سو. ظفير

جواب: اقول قد رده فی ردالمحتار بقوله وهذا الفرع مخالف لاطلاقهم الحرمة فی الغنی ولم یعتمده احد قلت: وهو کذالك والاوجه تقییده بالفقیر ویکون طلب العلم مرخصا لجواز سؤاله من الزکوٰة وغیرها وان کان قادرا علی الکسب الخ (١). ددی عبارت څخه معلومه سوه چی غنی طالب العلم ته دزکات ورکول درست نه دی دطالب العلم دمشغولتیا په خاطر فقط دارخصت دی چی په کسب مشغولیدل ورته ضروری نه دی زکات اخیستلی سی دفقیری په وجه، اودمدرس مالداره دناجائزوالی یوه دوهمه وجه داهم ده چی په تنخواه کی زکات ورکول درست نه دی او دمالداری په سبب هم درست نه دی. فقط

دنصاب خاوند ته دحج لپاره زکات ورکول څنګه دی؟ سوال: (١٤٣٠) یوسړی دنصاب خاوند دی ده ته دحج دپاره دزکات ورکول درست دی اوکه نه؟

جواب: داسړی چی دنصاب خاوند دی ده ته دزکات ورکول درست نه دی (٢). فقط

پر مرور باندی دزکات رقم مصرفول څنګه دی؟ سوال: (١\١٤٣١) زید دزکات روپی یاددی څخه جامی واخیستی، نودخپل زوی ښځی ته یې ورکولی سی اوکه نه؟

٢\ : زید دزوی دښځی دپاره جامی جوړی کړی تراوسه پوری یې دیته ورکړی نه دی نو اوس په نیت دزکات هغه ورکولی سی اوکه نه؟

که زکات ددوو کالو ادا کړی نو څه حکم لري؟ سوال: (٣\ ٤٣٢) زید پنځلس روپی زکات ورکوی نوکه چیری دیرش روپی ورکړی نو ددوو کالو زکات اداء کیدی سی اوکه نه؟

جواب: ١\ : زید دخپل زوی ښځی ته زکات ورکولی سی کله چی هغه مصرف دزکات وی او جامی وغیره نور شیان هم دزکات دروپو څخه جوړولی سی (٣).

٢\ : هغه جامی دزکات په نیت خپل دزوی ښځی ته ورکولی سی.

٣\ : دا درسته ده په دی صورت کی ددوو کالو زکات آداء کیدلی سی. (٤) فقط

خادمی ته دمحتاجی په وجه زکات او سرسایه ورکول څنګه دی؟ سوال: (١٤٣٣) زکات یا دسرسایه قیمت خپلی خدمتګاری خوراك پخولو والاته که چیری غریبه وی ورکولی سی

---

(١). وګوری ردالمحتار باب المصرف تحت قوله والحاجة داعیة (ج٢ ص ٨١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٠) . ظفیر

(٢). ولا الی غنی یملك قدر نصاب فارغ عن حاجة الاصلیة من ای مال کان (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٧). ظفیر

(٣). ولا الی من بینهما ولاد (درمختار) قید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب الخ (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٧ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٢). ظفیر

(٤). ولو عجل ذونصاب زکاته لسنین صح لوجود السبب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الغنم ج٢ ص ٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٣). ظفیر

اوکه نه؟

جواب: خپله خدمتگاره پخلی والا ته زکات اوسرسایه په دی وجه ورکول چی هغه محتاجه اوغریبه وی اوپه تنخواه کی یې نه ورکوی نودا درست دی مگر په تنخواه کی ورکول یې جائزنه دی (١).

نابالغی ته زکات ورکیدلی سی اوکه نه؟ سوال: (٤٣٤\١) نابالغی ته زکوٰة ورکول کیږی اوکه نه یعنی ورکول کیدی سی اوکه نه؟

جواب: نابالغی محتاجی ته په زکات ورکولو سره زکات اداء کیدلی سی (٢). فقط

(که چیری هغه قبض کول پیژنی چی وایې خلی اونه یې غورځوی اوکه نه نو دهغه ولی ته یې سپارل پکار دی. ظفیر)

دمستحق ته دلور دواده لپاره دزکات رقم ورکول درست اوصحیح دی: سوال: (٤٣٥\١) په هندی باندی دهغه دگینهی ددوو کالو زکات واجب دی چی نژدی څلویښت روپی کیږی دهغه سره یوه انجلی دڅوکالو څخه اوسیږی هغه دې ته قرآن کریم وایې او ددی خوراک جامی اونور مصرف هم برداشت کوی اوهغه انجلی دهندی کار هم کوی ددی انجلی مور اوپلار چی دزکات حقداردی اوددی واده کونکی دی، هنده غواړی چی دزکات روپی ددی انجلی په واده کی ددی دپاره گینه یا لوښی یاجامی جوړی کړی نو ددی زکات اداء سو اوکه نه؟

دایې وویل چی ددی څخه لور ته زیورات جوړکړه؟ سوال: (٤٣٦\٢) یا دزکات روپی ددی انجلی مور اوپلار ته ورکړی او ورته یې وویل چی ددی انجلی په واده کی یې په گینه یا په بل څه کی ولگوی؟

بغیر دهدایت څخه روپی ورکول: سوال: (٤٣٧\٣) که هیڅ هدایت یې نه وی کړی اودزکات روپی ورکړی نوڅه حکم دی؟

که څه یې ورکړی وی: سوال: (٤٣٨\٤) که چیری ټولی روپی ددی په خاطر مصرف نه کړی بلکی کمه برخه یې مصرف کړی نوڅه حکم دی؟

---

(١). ولاالی مملوکه ای الغنی (درمختار) احترز به عن مملوك الفقیر فیجوز دفعها الیه (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٨) دلته دمملوك څخه غلام مراد دی لیکن حکم عام دی، مصرف الزکوٰة الخ هوفقیر وهومن له ادنٰی شیئ ای دون نصاب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفیر

(٢). دفع الزکوٰة الی صبیان اقاربه برسم عید الخ جاز (درمختار) قوله الی صبیان اقاربه ای العقلاء والا فلا یصح الا بالدفع الی ولی الصغیر (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٢) معلومه سوه چی نابالغ به دداسی عمر وی چی روپی پیژنی اوضائع کوی یې نه . ظفیر

انجلی ته يې نغدي ورکړي نوڅه حکم دي؟ سوال: (۴۳۹\۵) که مخکې يا وروسته دواده څخه يې دی انجلی ته نغدی ورکړی نوڅه حکم دی؟

جواب: \۱، ۲: ددی انجلی مور اوپلار ته دزکات روپی ورکولی سی چی هغه يې ددی انجلی په نکاح کی ولګوی داصحيح ده اوکه پخپله دی انجلی ته لوښی يانور څه واخلی او وربې کړی نو داهم درسته ده (۱).

\۳: که څه هدايت يې کړی وی اوکه نه وی کړی هرقسم درسته ده.

\۴: ټولی روپی هم مصرف کول او ورکول يې جائز دی.

\۵: داهم جائز دی. فقط

درمضان دمياشتی دروژی فديه يوفقيرته ورکړی که دوو ته: سوال: (۴۴۰) ديوسړی سره په تخمينی ډول سره څلور روپی درمضان المبارك دروژی دفديې نغد قيمت جمعه دی، نو هغه يومسکين ته ورکولی سی اوکه نه دوو ته يې هم ورکولی سی دوو مسکينانو ته دفديې په ورکولو کی څه نقصان خو نه راځی؟

جواب: يوسړی ته يې ورکول ضروری نه دی څوکسانو مسکينانو ته يې ورکول هم درست دی په فديه کی په دی سره هيڅ نقصان نه راځی (۲).

عيسوی ياهندو يا ددوی په مدرسو کی دزکات دروپو لګول درست نه دی: سوال: (\۴۴۱) آيا محتاجه هندوته يا دهندوانو په مدرسه کی زکات په ورکولو سره اداء کيږی؟ اوپه دی طريقی سره دعيسايې سړی اويا ددوی دمدرسی دپاره څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی زکات نه اداء کيږی زکات محتاج مسلمان ته ورکول ضروری دی (۳).فقط

---

(۱). مصرف الزكوٰة الخ هوفقير وهومن له ادنٰى شيئ اى دون نصاب اوقدر نصاب غير نام مستغرق فى الحاجة ومسكين من لاشيئ له الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۷۹ وص۸۰ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹). ظفير

(۲). مصرف الزكوٰة (درمختار) وهو مصرف ايضا لصدقة الفطر والكفارة والنذر الخ (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۷۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹) يصرف المزكى الى كلهم او الى بعضهم ولو واحد من اى صنف كان (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴). ظفير

(۳). ولا تدفع (اى الزكوٰة) الى ذمى لحديث معاذ ﷺ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۹۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۱) حديث دمعاذ دادی کم چی دفتح القدير څخه شامی نقل کړيدی: ولفظ الحديث على ما فى الفتح من رواية اصحاب الكتب الستة : انك ستأتي قوما أهل كتاب، فادعهم إلى شهادة أن لا إله إلا الله وأني رسول الله، فإن هم أطاعوك لذلك فأعلمهم أن الله افترض عليهم خمس صلوات في كل يوم وليلة، فإن هم أطاعوك لذلك، فأعلمهم أن الله افترض عليهم صدقة تؤخذ من أغنيائهم فترد على فقرائهم الخ اهـ وضمير فقرائهم للمسلمين، فلا تدفع إلى من كان من المؤلفة كافرا أو غنيا، وتدفع إلى من كان منهم مسلما فقيرا =

دفديي رقم اصولو اوفروعو ياخاوند ته ورکول څنګه دي؟ سوال: (۴۴۲\۱) هنده وفات سوه اوهغې مثلا دسل روپی متعلق داوصيت وکی چی داروپی زما دځلور سوه قضاء سوو لمونځونو په فديه کی ورکړی نو دوصيت کوونکی دا رقم حاجت مندو اصولو او فروعو يا دهندی خاوند ته ورکول جائزدی اوکه نه؟

پوره رقم يوسړي ته ورکول جائزدي اوکه نه؟ سوال: (۴۴۳\۲) دارقم يومستحق ته په يو وار ورکول روا دی اوکه ناروا دی؟

دزکوٰة فديه دوصی اصول او فروع ته ورکول څنګه دي؟ سوال: (۴۴۴\۳) زيد وصيت وکی چی زما پرذمه زکات پاته دی زما دمرګ څخه وروسته زما دترکه څخه دی اداء سی نو دوصی دارقم دزکات دزيد حاجتمندو اصولو اوفروعو ته ورکول جائز دی اوکه نه؟ اوپه دی طريقه وصی خپل حاجتمند اصل اوفرعی ته دزکات رقم ورکولی سی اوکه نه؟

وکيل دموکل په اصولو اوفروعو باندی مصرف کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۴۴۵ \۴) زيد په خپل ژوندکی يوڅوك وکيل ونيوی چی دا دزکات روپی په حقدارو باندی تقسيم کړه نو وکيل دا دزيد په اصولو اوفروعو چی حاجتمند وی تقسيمولای سی اوکه نه؟ اوپه دی طريقه يې په خپلو اصولو اوفروعو باندی هم تقسيمولی سی اوکه نه؟

جواب: \۱: دهندی اصولو اوفروعو اوخاوند ته ورکول جائز نه دی (۱).

\۲: په دی کی دغه تفصيل دی کم چی په درمختار کی دی: وکره اعطاء فقير نصابا او اکثر الا اذا کان المدفوع اليه مديونا اوکان صاحب عيال بحيث لوفرقه عليهم لايخص کلا او لا يفضل بعد دينه نصابا فلا يکره. فتح (۲).

\۳: دزيد اصولو او فروعوته ورکول درست نه دی. (۳) او وصی يې خپلو فروعو او اصولو ته چی فقيران وی ورکولی سی. وللوکيل ان يدفع لولده الفقير وزوجته الخ. در مختار (۴).

\۴: دزيد اصولو اوفروعو ته يې نسی ورکولی، اوخپل اصول اوفروع ته چی فقيران وی ورکولی سی. کمامر. فقط

= 　بوصف الفقر (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲). ظفير

(۱). ولا يدفع المذکی زکوٰة ماله الی ابيه وجده وان علا ولا الی ولده وان سفل الخ ولاتدفع المراة الی زوجها (هدايه باب من يجوز دفع الصدقات ج۱ ص ۱۸۸). ظفير

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۹۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۳. ظفير

(۳). ولا الی من بينهما ولاد (الدرالمختار) الی اصله وان علا کابويه واجداده وجداته من قبلها وفرعه وان سفل الخ کاولاد الاولاد الخ (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۷ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲). ظفير

(۴). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۴ وص ۱۵ . ظفير

دحیلي تملیک په ذریعه زکات دمدرسي پر ملازمینو باندي مصرف کولی سی اوکه نه ؟ سوال: (۴۴۶) په یوه مدرسه کی داستطاعت خاوندان اوبی وسه طالبان تعلم کوی دزکات دمال څخه چی کمی روپی حاصلی سوی یو نادار طالب العلم ته یې ورکړی بیا هغه دا روپی دخپل طرف څخه مدرسی ته ورکولی سی اوکه نه؟ اوددی څخه په مدرسینو او ملازمینو مصرف کولی سی اوکه نه؟ ددی څخه علاوه بل کم دریم صورت کیدلی سی دجواز اوکه نه؟

جواب: ددی دتمليك دحيلي څخه وروسته يعنی چی يو محتاج طالب العلم ته يې په ملکيت کی راولی اوهغه يې په داخل دمدرسه کی ورکړی او دملازمينو اومدرسينو په تنخواه کی يې مصرف کړی دامال دزکات درست دی (۱). فقط

دغني بالغه زوی ته دقرباني دڅرمني روپی ورکول جائز نه دي: **سوال**: (۴۴۷) زید غنی دی اوقربانی يې کړيده ددی يوغريب زوی دی نودی خپل زوی ته دمذکوره قربانی څخه څرمن يادهغه قيمت ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: څرمن ورته ورکولی سی اوڅرمنی قيمت ورته ورکول درست نه دی لکه دزکات په شان (۲). فقط

دمدرسي په طالبانو يابه عمارت اوپه نورو باندي زكات لګولی سي اوكه نه؟ سوال: (۴۴۸) داسی مدرسی چی په هغه کی دينی اوحنفی اوهم انګريزی ژبه دژبی ديادولو په توګه دضرورت مطابق ويل کيږی، دزکات روپی لکه دطالبانو دخوراك دپاره اودمدرسينو او په تعمير يانوروکی مصرف کولی سی اوکه نه؟ که مهتمم يې په ملکيت کی راولی نو زکات به اداء سی اوکه نه؟

جواب: دزکات روپی دمسکينانو طالبانو په خوراك اولباس کی مصرفولی سی که څه هم هغه دکار کسب اوددينی علم سره انګريزی هم دژبی ديادولو په غرض يادوی (۳) نو د مدرسينو اودمسجدونو په تعمير اوپه مدرسو کی دزکات روپی مصرفول درست نه دی اوددی سره زکات نه اداء کيږی ځکه چی اصل داده چی دزکات داداء کولو دپاره داشرط

---

(۱). وحيلة الجواز ان يعطى مديونه الفقير زكاته ثم ياخذها عن دينه وحيلة التكفين بها التصدق على فقير ثم هم يكفن فيكون الثواب لهما وكذا فى تعمير المسجد (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۱). ظفير

(۲). ولا الى من بينهما ولاد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۲ ، ط. س. ج ۲ ص ۲۴۲). ظفير

(۳). مصرف الزكوٰة الخ هوفقير وهومن له ادنٰى شيئ اى دون نصاب الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۷۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹). ظفير

دی چی یو محتاج یې بغیر دعوض ځخه مالك وګرځول سی ([1]). فقط

بنو هاشمو ته زکات ورکول جائزدي اوکه نه؟ **سوال**: (۴۴۹) په کفایه اوپه نوروکی یې په دی زمانه کی بنی هاشموته زکات روکول جائز لیکلی دی داقول ستاپه نظر ځنګه دی؟

جواب: احقر په دی باندی دمنع والی فتوٰی ورکړیده، خوکه چیری ضرورت وو نوپه مالك ګرځولو سره بنی هاشمو ته دی ورکول سی. کما قال صاحب الدر المختار ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع الخ ([2]). فقط

په کمه مدرسه کی چی دتنخواه ځخه علاوه بل کم مصرف نه وی نو دزکات ورکول ورته جائز نه دي: **سوال**: (۴۵۰) داسی اسلامی مدرسوته زکات ورکول په کمو کی چی داستادانو صاحب نصاب دتنخواه ځخه غیر بل مصرف نه وی ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: جائزنه دی اوزکات نه اداء کیږی ([3]). فقط

آیا غنی عالم اومالداره طالبانو ته دزکات ورکول درست دي؟ **سوال**: (۴۵۱) په درمختار کی دی: وبهذه التعليل يقوى ما نسب الواقعات من ان طالب العلم يجوز له اخذ الزكوة ولو غنيا اذا فرغ نفسه لافادة العلم الخ اونواب صدیق حسن خان په کتاب روضة الندية کی لیکلی دی: ومن جملة سبيل الله الصرف في العلماء الذين يقومون بمصالح المسلمين الدينية فان لهم في مال الله نصيباً سواء كانوا اغنياء او فقراء الخ ددی ځخه معلومه سوه چی عالم اوطالب العلم که غنی هم وی دزکات ورکول ورته جائزدی، اوددی تائید دیو حدیث پاك ځخه هم کیږی. عن ابی سعید رضي الله عنه ان النبی ﷺ قال تحل الصدقة للغنى اذا كان فی سبيل الله عزَّ وجل. اخرجه ابوداود الطيالسی ص ٢٩٢.

جواب: اقول وبالله التوفيق. مالداره عالم چی دنصاب مالك وی زکات اوواجب صدقات ورکول اودهغه دپاره یې اخیستل دصحیح مذهب موافق جائزنه دی. اوپه فی سبیل الله کی که څه هم طالب العلم داخلیدلی سی خومحتاج والی په دی کی شرط دی. کما نقل الشامی عن البدائع اذا كان محتاجا ([4]) الخ وفيه ايضا قوله لايملك نصابا، قيد به لان

([1]). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا ولا یصرف الی تعمیر بناء نحو مسجد الخ (ایضا ج٢ ص ٨٥، ط. س. ج٢ ص ٣۴۴). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٠، ط. س. ج٢ ص ٣۵٠. ظفیر

([3]). مصرف الزکوٰة الخ هوفقیر الخ ومسکین الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفیر

([4]). وهذا الفرع مخالف لاطلاقهم الحرمة فی الغنی ولم یعتمده احد قلت وهوکذالك ولاوجه تقییده بالفقیر ویکون طلب العلم مرخصا لجواز سواله من الزکات وغیرها وان کان قادرا علی الکسب الخ (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨١، ط. س. ج٢ ص ٣۴٠). ظفیر

الفقر شرط فی الاصناف کلها الا العامل وابن السبیل اذا کان له فی وطنه مال بمنزلة الفقیر (١) الخ وفیه ایضا عن النهر علی ان الاصناف کلهم سوی العامل یعطون بشرط الفقر الخ ص ۸۴ جلد ثانی، (٢) شامی، نو سره ددی تصریحاتو څخه غنی عالم ته جائزنه دی چی هغه صدقات الهی واجبه اوزکات واخلی، او داختلافاتو په صورت کی نه اخیستل یې ارجح دی. کما هو ظاهر

دسمرنا اوسیدونکی او دتهریس والا دزکات مصرف دی اوکه نه؟ سوال: (۴۵۲\۱) دسمرنا او دتهریس والا خلگ دزکات مصارف دی اوکه نه؟

دسمرنا اوتهریس دکار کونکو دپاره تنخواه: سوال: (۴۵۳\۲) سمرنا اوتهریس چی کمی چندی وصول کړی وی ددی څخه تقریر کوونکو اومحصلینو اووعظ کوونکو ته تنخواه او دډاک محصول ورکول کیږی نوشرعًا زکات اداء کیږی اوکه نه؟ اوپه چنده کی زکات اونور گډ ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: ۱\: دسمرنا اوتهریس مظلومانو اوکونډو اویتیمانو کم چی مفلس اومحتاجه وی او دنصاب مالك نه وی په یقین سره دزکات او دټولو واجبه صدقو مصرف دی بلکی ښه مصارف یې دزکات او واجبو صدقودی په دی کی هیڅ دشك او دتردد ځای نسته. کما قال الله تعالیٰ انما الصدقات للفقراء والمساکین. الایة توبه ۸۴.

۲\: په هغه چندوکی چی زکوٰة ورکول کیږی هغه په هغه وخت کی اداء کیږی کم کم وخت چی دسمرنا مظلومانو مسکینانو اونورو ته ورسول سی اوخلط کول یې چی کله دچندی دورکوونکی په اجازه وی دزکات دادا کولو په وخت کی مانع نه گرځی گویا دوکیلانو یعنی قبض کوونکو په اجازه سره یې خلط کړیدی، اوبیا یې زکات جلا دنصاب دخاوند دطرفه کړیدی. مسکینانو ته یې لیږلی (٣)، مگر ددی قسم دشبهاتو او دشکونو دوجه څخه دابنه ده چی دلته دتملیك حیله وکړی او وایې اخلی ددی دپاره چی بیاپه هرمصرف کی دمصرفولو هیڅ باك نه راځی. فقط

معذور مستحق استاذ ته زکات ورکول څنګه دی؟ سوال: (۴۵۴\۱) نن سبا دزکات روپی په عمومی توگه اسلامی مدرسو ته لیږل کیږی خو زما استاذ معذور ، عیالدار او قرضداره

---

(١). ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۷۳. ظفیر

(٢). ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۷۳. ظفیر

(٣). ولو خلط زکاة موکلیه ضمن وکان متبرعا، إلا إذا وکله الفقراء (درمختار) قوله: (ضمن وکان متبرعا) لانه ملکه بالخلط وصار مؤدیا مال نفسه. قال في التتارخانیة: إلا إذا وجد الاذن أو أجاز المالکان اهـ أي أجاز قبل الدفع إلی الفقیر ﷺ (ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۹). ظفیر

دی زما دپاره ښه ده چی دزکات روپی هغه ته ورکړم؟

جواب: بی شکه داښه او داجر اوثواب موجب دی چی دزکات روپی دضرورت په اندازه خپل عیالداره استاذ ته ورکول سی اوپاته نورو غریبانو اومسکینو طالبانو ته ورکول سی (١)، اسلامی مدرسی په دی زمانه کی په دی وجه ډیری زیاتی حقداری دی دداسی خدمت ځکه چی مسکینان طالبان درسول الله ﷺ میلمانه دی او ددوی په باره کی: فاستوصوا بهم خیرا (٢) په حدیث پاك کی راغلی دی یعنی رسول الله ﷺ ددوی دخدمت اومدارات (تعلق ساتلو) وصیت فرمایلی دی او ددوی په ذریعه چی ددین اشاعت کیږی هغه صدقه جاری ده او ددی په غرض ټولو ته دخپل طاقت په اندازه لږ لږ ورلیږل په کار دی.

خپلی مینځی ته زکات ورکول ځنګه دی؟ سوال: (۴۵۵) دلته چی کمه خپله مینځه وی هغه ته زکات ورکول درست دی اوکه نه؟

جواب: خپلی مینځی ته زکات ورکول درست نه دی، اودکمو خلګو چی شرعی مینځی نه وی لکه ځنګه چی دهندوستان اکثره خدمتګاران اوخدمتګاری په کورونو کی اوسیږی اوهغه مینځی نه دی هغوی ته زکات ورکول چی کله محتاجه وی درست دی (٣).

دمدرسی طالب العلم: **سوال**: (۴۵٦١) کم طالب العلم چی په اسلامی مدرسه کی داخل سی او ددرس نظامی نصاب حاصلول غواړی اوداسی دعلم په شوق کی بی وطن پرینبوول اومسافر سو دداسی طالب العلم دجائیداد اوتعلیم په نسبت کم شرعی قید سته اوکه نه؟ یاهغه دجائیداد اوتعلیم حقدار دی؟

٢١: مذکور طالب العلم په ذاتی حیثیت سره هیڅ نه لری داسی طالب العلم دجائیداد او دتعلیم مستحق دی اوکه نه؟

٣١: مذکورطالب العلم صرف عربی مذهبی تعلیم حاصلول غواړی مورث صرف دانګریزی تعلیم په صورت کی امداد کولوته تیاردی داسی طالب العلم مجبور دتعلیم او دجائیداد

---

(١). مصرف الزکوٰۃ الخ هو فقیر الخ ومسکین الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩) لانه لو نقلها الی فقیر فی بلد اخر اورع واصلح کما فعل معاذ رضی الله عنه لا یکره ولهذا قیل التصدق علی العالم الفقیر افضل کما فی المعراج (البحر الرائق باب المصرف ج٢ ص ٢٥٠). ظفیر

(٢). مشکوٰۃ باب العلم ص ٣۴. ظفیر

(٣). ولا الی ذمی الخ وعبده ومکاتبه ومدبره وام ولده ای لایجوز الدفع الی هولاء لعدم التملیك اصلا فی غیر المکاتب ولعدم التملیك اصلا فی غیر المکاتب ولعدم تمامه فیه (البحرالرائق باب الصرف ج٢ ص ٢۴۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢٥١) وکذا اجزاه مایدفعه الی الخدم من الرجال والنساء فی الاعیاد وغیرها بنیة الزکوٰۃ (عالمگیری باب المصارف ج١ ص ١٩٠). ظفیر

مستحق دی اوکه نه؟

۴\: دطالب العلم په ذاتی حیثیت سره تحقیقات لازم دی اوکه په محض طالب العلم کیدلو سره دتعلیم او دجائیداد حقدار دی؟

۵\: په اسلامی مدرسه کی ځای خالی وی لیکن مستحق طالب العلم یې محروم کی، او غیر مستحق ته یې ورکی داجائز دی اوکه نه؟

۶\: ابواب آمدنی چی دطالب العلمانو جاګیر وی او دمدرسینو دتنخواه دپاره هم وی، ددواړو دپاره یوحکم دی اوکه نه؟

جواب: ۱\: کله چی دده سره هیڅ نه وی که څه هم دده سره په کور کی مال وی نوده ته زکات یاخیرات ورکول درست دی (۱).

۲\: داسی طالب العلم دزکات اودنورو صدقات واجبه وو مصرف دی (۲).

۳\: مستحق یې دی (۳).

۴\: محض دطالب العلم کیدلو په حیثیت سره بغیر دتحقیق دوظیفی اوځای مستحق کیدلی سی. (۴)

۵\: سره دامکانه مستحق طالب العلم محرمول بغیر د(شرعی) وجه څخه بد دی. (۵)

۶\: دطالبانو دپاره زکات اوخیرات آمدنی مصرفولی سی او داستاذانو په تنخواه کی دزکات زر ورکول صحیح نه دی. (۶) فقط

دچا سره چی صرف یو څاروی وی ده لره زکات اخیستل څنګه دی؟ سوال: (۴۵۷) دیوه شخص سره فقط یوجانور دی څلویښت یاپنځوس روپی قیمت لری نودده دپاره زکات او صدقه اوداسی نور اخیستل جائز دی اوکه ناجائز؟

---

(۱). و(۲). و(۳). و(۴). والغنی لا یمنع من تناولها عند الحاجة کابن السبیل بحر عن البدائع بهذا التعلیل بقوی ما نسب للواقعات من ان طالب العلم یجوز له اخذ الزکاة ولو غنیا اذا فرغ نفسه لافادة العلم واستفادته لعجزه عن الکسب والحاجة داعیة الی ما لا بدمنه (درمختار) وفی المبسوط لایجوز دفع الزکوٰة الی من یملك نصابا الا طالب العلم والغازی ومنقطع الحج لقوله ﷺ یجوز دفع الزکوٰة لطالب العلم وان کان له نفقة اربعین وسنة آهـ (رد المحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۱ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۰) دعامل او دمسافر څخه ماسوا دنورو خلګو دپاره یې دفقر شرط ضروری ګرځولی دی، لان الفقر شرط فی الاصناف کلها الا العامل وابن السبیل اذا کان له فی وطنه مال بمنزلة الفقیر (البحر الرائق باب المصرف ج۲ ص ۲۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۳). ظفیر

(۵). مصرف الزکوٰة الخ هو فقیر وهومن له ادنٰی شیئ ای دون نصاب اوقدر نصاب غیر تام مستغرق فی الحاجة (ایضا ج۲ ص ۷۹ وص ۸۰ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹). ظفیر

(۶). وان کان عند طعام شهر وهو یساوی مائتی درهم یجوز صرف الزکوٰة الیه الخ (الفتاوٰی الخانیه علی هامش الفتاوٰی الهندیه باب فیمن توضع فیه الزکوٰة ج۱ ص ۲۲۲). ظفیر

جواب: ده لره زكات وغيره اخيستل جائزدی ([1]).

په يتيم خانه كی زكات وركول څنګه دی؟ **سوال**: (٤٥٨\١) په يتيم خانه كی دزكات روپی وركول جائزدی اوكه نه؟ څنګه چی نابالغ ته زكوٰة وركول جائز نه دی.

جواب: نابالغو ته زكات وركول درست دی، نوپه يتيم خانه كی ديتيمانو دمصرف دپاره دزكات روپی وركول درست دی. ([2]) فقط

دزكات مستحق چی مهتمم ته زكات وركړی او هغه كتاب او نور څه واخلی نو څه حكم دی؟

سوال: (٤٥٩\١) كه چيری ديوی اسلامی مدرسی مهتمم دنصاب مالك نه وی كه خلګ ده ته زكات يا دقربانی څرمنی وركړی يا مهتمم په هغه باندی خپله قابض سی ددی روپو څخه دطالبانو لپاره كتابونه واخلی او دهغوی په خوراك اولباس كی يې مصرف كړی او داستاذانو تنخواه ځينی وركړی نوجائز دی اوكه نه؟

جواب: په دی طريقه به دتمليك حيله وكړی او دزكات رقم او دقربانی دڅرمنی قيمت دمدرسينو او ملازمينو په تنخواه كی مصرفول اوكتابونه اخيستل په مدرسه كی وقف كول اودطالبانو په خوراك اولباس كی لګول درست دی څه ركم چی په درمختار كتاب الزكوٰة كی داحيله كړيده. وحيلة التكفين بها التصدق على فقير ثم هو يكفن الثواب لها وكذا فى تعمير المسجد وتمامه فى حيل الاشباه الخ، كتاب الزكوٰة درمختار ([3]). فقط

مستحق بالغ هلک ته زكات وركولی سی برابره خبره ده چی دهغه پلار دزكات مستحق نه وی؟ **سوال**: (٤٦٠\١) څوك چی دزكات مصرف نه وی دهغه بالغ زوی كم چی دهغه سره خوراك كوی دا دزكات مصرف دی اوكه نه؟

جواب: دفقير زوی كم چی خپله هم دنصاب مالك نه وی دزكات وغيره مصرف دی ([4]) (د جواب په الفاظو كی چشم پوشی ده ددی حاصل دادی چی كم سړی دزكات مستحق نه وی دهغه نابالغ زوی ته زكات وركول درست دی چی هغه دنصاب مالك نه وی. ظفير)

دفديې دمصارفو تفصيل: **سوال**: (٤٦١\١١) دفديې مصارف تفصيلی وليكی اودفديې روپی په لاندی مصرفونو كی لګول كيدلی سی اوكه نه؟ دمكی مكرمی غريبان اومسكينان،

([1]). و([2]). مصرف الزكوٰة ﷺ هوفقير ﷺ ومسكين ﷺ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩) دبلوغ قيد نسته ددی وجه څخه بالغ او نابالغ دواړوته يې وركړه جائزده والله اعلم. ظفير

([3]). الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١. ظفير

([4]). ولا يجوز الى صغير والده غنى فان كان الابن كبيرا جاز (الفتاوٰی الخانيه على هامش عالمګيری ج١ ص ٢٢٢ باب فيما توضع فيه الزكوٰة). ظفير

دسمرنا مظلومان، دخلافت کمیټی دکوهیانو جوړول، مسافرخانی مسجدونه اوداسی نور جوړول، دمدرسی دپاره داحادیثو کتابونه اخیستل، دفدیی په رقم کی یو عالم یا مولوی ته چی دزکات مستحق وی دزر پنځه سوه روپو کتابونه اخیستل او ورکول جائز دی اوکه ورته نغدی روپی ورکول سی چی په هغه دی په خپله کتابونه واخلی؟

فدیه په یتیم خانه کی: **سوال**: (۴۲۲\۲) دفدیې رقم په کمو یتیم خانو کی په مصارفو کی یې ورکولی سی اوکه نه؟ یاکم دنابالغه یتیم ولی ته چی ددی نابالغ دپاره یې صرف کوی جائزدی اوکه نه؟

فدیه مفلس قرضدار ته: **سوال**: (۴۲۳\۳) دفدیې رقم دکم مفلس قرضداری په روا قرض کی اداء کیدلی سی اوکه نه سی ادا کیدلی؟ هغه به خپل قرض پخپله اداء کوی اوکه ددی روپو څخه یې ورکولی او اداء کولی سی؟

دفدیې څخه دمدرسی دپاره کتابونه اخیستل: **سوال**: (۴۲۴\۴) دفدیې درقم څخه یې دینی مدرسی ته کتابونه اویا په نورو کی ولګولی نودا جائز دی اوکه نه؟

جواب: \۱\: دواجبی فدیې مصارف هم هغه دی کم چی دزکات مصارف دی په دی کی دمحتاج او دمفلس مالك جوړول ضروری دی برابره خبره ده که هغه دمکی وی اوکه دسمرنا مظلومان، ددوی مالك کیدل ضروری دی، نو په کمو مصارفوکی چی دچا تملیك نه وی راغلی په هغه مصارفو کی لګول ددی فدیې دروپو صحیح نه دی لکه دمسجد او دمدرسی ابادول اوکوهی، داحادیثو اودفقهی کتابونه اوداسی نور په دی کی یې لګول بغیر دچا دتملیك څخه جائزنه دی اوداحکم دانګوره فنډ خلافت کمیټی دی چی په دی کی زکات او واجبی فدیې نسی مصرف کیدلی مګر په دی حیلی سره چی څوك دنصاب مالك نه وی دهغه ملکیت یی وګرځوی دهغه دطرف څخه په انګوره فنډ اونورو کی یې ورکولی سی (١).

\۲\: نابالغه یتیم مفلس په مصارفو کی دلګولو دپاره دهغه ولی ته ورکول جائزدی یعنی درست دی.

\۳\: ددی رقم څخه پخپله قرض اداء کولو کم قرض دار مفلس ته درست نه دی ، البته دی

(١). مصرف الزکوٰۃ الخ وهومصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذالك من الصدقات الواجبة الخ وهو فقیرالخ ومسکین الخ ویشترط ان یکون التصرف تملیکا لا اباحة لایصرف الی بناء نحومسجد ولا الی کفن میت الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ وج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩، وص ٣۴۴)، وحیلة التکفین بها التصدق علی فقیر ثم هو یکفن فیکون الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد الخ (ایضا کتاب الزکوٰۃ ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفیر

قرضدار مفلس ته یې ورکول درست دی چې هغه خپل قرض باندی اداء کړی (١).
۴\ : دکتابونو وغیره اخیستل ددی رقم څخه درست نه دی (٢) البته دیوی مدرسی دمسکینو طالبانو په مصارفو کی ددی روپو مصرفول درست دی. فقط
دتملیک په ذریعه ددرسګاه په تعمیرکی دزکات په صرف کولو سره زکات اداء کیدی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۴۲۵\) که چیری یوصاحب زکات ددینی علم په ضروریاتو کی امداد کول غواړی چې هلته دزکات روپی نه سی لګولی مثلا درسګاه جوړول یادار الطلبه وغیره جوړول اوتملیك یې جوړ کړی اودزکات روپی مصرف کړی نوپه دی سره زکات بغیر دشبهی څخه اداء کیدلی سی اوکه نه؟ او دعلمی کومك په نیت په داسی صورت اختیارولو سره دورکوونکی دزکات دعلم دین په امداد کولو سره ثواب هم ورکول کیږی اوکه نه؟ صرف دزکات دورکولو ثواب ورکول کیږی؟
جواب: په دی صورت کی زکات بغیر دشبهی څخه اداء کیږی اوپه شامی کی منقول دی چې په ذکر سوی طریقی سره په زکات ورکولو کی معطی ته هم دعلم دین دکومك کولو ثواب حاصلیږی: یقال ان ثواب التکفین یثبت للمزکي ایضاً لان الدال علی الخیر کفاعله وان اختلف الثواب کماً وکیفاً قلت واخرج السیوطي في الجامع الصغیر لومرت الصدقة علي یدي مائة لکان لهم من الاجر مثل اجر المبتدي من غیر ان ینقص من اجره شيء الخ (٣).
پرچا چې سرسایه واجب وی هغه دزکات مصرف دی اوکه نه؟ **سوال**: (۴۲۶\۱) پرچا چې صدقه فطر واجب وی هغه دزکات مصرف دی اوکه نه؟
غریب چې دیو مالداره سره خوراک پخوی دزکات مصرف دی: **سوال**: (۴۲۷\۲) مالداره او غریب یوځای دواړه پخلی کوی نو غریب دزکات مصرف دی اوکه نه؟
جواب: ۱\ : نه دی. (۴)
۲\ : هغه غریب دزکات مصرف دی (۵). فقط
دکمی کونډی سره چې ۳۰ – ۴۰ بیګه (٦) مزکه وی زکات ورکول کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۱\

(١). و(٢). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا (باب المصرف ج٢ ص٨٥ ، ط. س. ج٢ ص٣۴۴). ظفیر
(٣). ردالمحتار ، کتاب الزکوة ج٢ ص ١٢. ظفیر
(۴). ولا الی غنی یملك قدر نصاب فارغ عن حاجة الاصلیة من ای مال کان (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴٧) . ظفیر
(۵). مصرف الزکوٰة الخ هوفقیر الخ ومسکین الخ (ایضا ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفیر
(٦). بیګه: په هندی ژبه کی دمځکی یو خاص مقدار ته وایی چې څلور کناله یا ٨٠ مرلې کیږی. حقانی

۴۲۸) دیوی کونډی ښځی سره ۳۰ – ۴۰ بیگه مځکه ده مگر دګرانی اودوچ کالی دوجه ددی سره دګذاری برابر امدنی نه ده که چیری کم خپلوان دی ته زکات ورکړی نو اداء کیږی اوکه نه؟

دکافی امدنی والا قرضدار ته زکات ورکول سی اوکه نه؟ سوال: (۲\۴۶۹) دکم شخص چی آمدنی پوره وی لیکن هغه قرضدار وی اوقرض نه سی اداء کولی نوده ته دزکات په ورکولو سره زکات اداء کیږی اوکه نه اداء کیږی؟

جواب: \۱: په دی صورت کی زکات اداء سویدی ([1]).

۲\: په دی صورت کی هم زکات اداء کیدلی سی ([2]). فقط

دزکات څخه دکتابخانی دپاره کتابونه اخیستل څنګه دی؟ سوال: (۴۷۰\) دزکات دمال څخه که چیری یو شخص دیوی اسلامی مدرسی دکتابخانی دمحتاجه طالبانو دپاره چی قائمه وی کتابونه ورته واخلی نومدرسین اونور مالداران استفاده ځینی حاصلولی سی اوکه نه؟

جواب: په زکات کی دمحتاجه تملیك شرط دی بغیر دتملیك څخه یعنی دمالك جوړولو څخه غیر زکات نه اداء کیږی نواول دی زکات رقم داسی غریبانو طالبانو ته تقسیم کړی، یا که چیری جامی یا کتابونه دوی ته جوړ کړی یایې واخلی نوهغه دغریبانو مملوك کړی یعنی هغوی ته یې ورکړی اوپه تقسیم کی یې ورکړی، دیوی مدرسی په کتابخانه کی دکتابونو په ایږدلو سره زکات نه اداء کیږی ([3]). فقط

آیا دزکات رقم په دی ځایونو کی ورکړی؟ سوال: (۴۷۱) دزکات روپی یوبیت المعذورینو یا محتاجانو ته دمعذورینو اودمحتاجانو دامداد دپاره ورکولی سی اوکه نه؟

([1]). وذكر في الفتاوى فيمن له حوانيت ودور للغلة لكن غلتها لا تكفيه وعياله أنه فقير ويحل له أخذ الصدقة عند محمد وفيها سئل محمد عمن له أرض يزرعها أو حانوت يستغلها أو دار غلتها ثلاثة آلاف ولا تكفي لنفقته ونفقة عياله سنة يحل له أخذ الزكاة وإن كانت قيمتها تبلغ ألوفا، وعليه الفتوى (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۸). ظفير

([2]). ومنها الغارم وهو من لزمه دين ولا يملك نصابا فاضلا عن دينه اوكان له مال على الناس لايمكنه اخذه والدفع الى من عليه الدين والى من الدفع الى الفقير (عالمگيرى باب المصارف ج۱ ص ۱۸۸). ظفير

([3]). ويشترط ان يكون الصرف تمليكا لااباحة فلايصرف الى بناء نحومسجد (درمختار) كبناء القناطر والسقايات واصلاح الطرقات وكرى الانهار والحج والجهاد وكل ما لا تمليك فيه، زيلعى (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴) زموږ په دې زمانه کی ځینی دیندارہ دکتابونو تاجران پر مدرسه باندی کتابونه په داسی توګه خرڅوی هغه وایی چی زه هرکتاب په دومره قیمت سره اخلم اوپه دې سره به دزکات په روپو اخیستل سوی کتاب په دې شمېره کی کتابخانې مفت ورکوم، کم کسان چی دا ډول معامله کوی هغوته معلومیدل پکار دی چی په دې سره دهغوی زکات نه اداء کیږی اوپه دې فاسد شرط سره سوی بیع هم فاسدیږی، والله اعلم. ظفير

۲\ : آیا په یوداسی فنډکی دزکات درقم په لیږلو کی داشرط ضروری دی چی دا رقم یوازی په مسلمانانو مصرف کړی ځکه چی که دایقین نه وی نوغالب گمان به داوی چی دداسی فنډ څخه بغیر دمذهب دلحاظ فائده رسولی سی.
جواب: ۱\ ، ۲ : په زکات کی دمسلمان محتاج دزکات دروپو مالك گرځول ضروری دی نو په کمه موقع چی داشبهه وی چی مسلمانانو ته لیږل کیږی یاغیر مسلمانانو هغه په دی کی شریك دی یا دچا په ملکیت کی نه راځی نوپه داسی ځایونو کی دتملیك حیله دی جوړه کړی اوبیا دی هغه ته روپی په زکات کی ورکړی (١). فقط
غنی طالب العلم دزکات مستحق نه دی: **سوال**: (۴۷۲\) مالداره طالب العلم چی مسافرنه وی دزکات او دسرسایی حقدار کیدی سی اوکه نه؟
جواب: مالداره طالب العلم ته زکات ورکول اوهغه ته یې اخیستل جائزنه دی بلکی حرام دی اوزکات نه اداء کیږی که څه هم علامه شامی فرعی ته دزکات داخیستلو جواز نقل کړی دی. چی لیکلی یې دی: وهذا الفرع مخالف لاطلاقهم الحرمة فی الغنیّ ولم یعتمده احد ط قلت وهو کذلك ولا وجه تقییده بالفقیر (٢) الخ، وقال بعده قوله لا یملك نصاباً قید به لان الفقر شرط في الاصناف کلها الا العامل وابن السبیل اذا کان له مال في وطنه بمنزلة الفقیر (٣) الخ ثم قال للاتفاق علی ان الاصناف کلهم سوی العامل یعطون بشرط الفقر الخ شامی (۴). نو معلومه سوه چی طالب العلم غنی غیر مسافر ته دزکوٰة او دسرسایه ورکول جائز نه دی او نه اداء کیږی.
دقربانی دڅرمنی قیمت ایا فوراً فقیر ته حواله کول ضروری دی: **سوال**: (۴۷۳) دقربانی د څرمنی قیمت په مجرد وصولیدلو سره مستحقینو ته ورکول کیږی اوکه نه جمع سی او په تدریج سره دمستحقینو په کفالت راسی نوڅه بدی خونسته، که چیری ددی جمعِ سوی څخه څه تجارت وکړی دهغه دګټی څخه دمستحقینو په کفالت کی راسی نو شرعاً جائز دی اوکه نه؟ که چیری دقربانی دڅرمنی په جمع کولو سره دیوی مدرسی دمهتمم په ملکیت کی راولی یایې دچاپه اختیار کی ورکړی نوددی څخه هغه مالك یامختار ددینی علومو استاذانو ته تنخواه ورکولی سی اوکه نه؟

---

(١). ولا تدفع الی ذمی لحدیث معاذ. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٢، ط. س. ج٢ ص ٣٥١) وحیلة التکفین بها التصدق علی فقیر ثم هو یکفن فیکون الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد الخ (ایضا کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفیر
(٢). ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨١ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴٠. ظفیر
(٣). ایضا ج٢ ص ٨٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴٣. ظفیر
(۴). ایضا ج٢ ص ٨۴ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴٣. ظفیر

جواب: ښه داده چې په مجرد وصولولو سره حقدارو ته دې ورکول سی طالبان دې اوکه غير طالبان او يايې په مدرسوکې ورکړې که څه هم دطالبانو دلګښت دپاره يې کښېږدي نوپه دې کې هم هيڅ باك نسته او ددې جمع سوې څخه تجارت کول اودهغه ګټه حقدارو ته ليږل درست نه دې بلکې ددې قرباني دڅرمنې قيمت په فقيرانو باندې صدقه کول واجب دې اومالك جوړول په دې کې شرط دې (١) اومدرسې مهتمم چې کله دنصاب مالك وي ورکول ورته جائزنه دې مګر که دمدرسې مهتمم ددې وکيل وګرځوي چې هغه به داقيمت دخپل ځان سره کښېږدې اوپه خپله حواله کې يې راولي او وخت په وخت به يې دطالبانو په ضروورياتو کې لګوي نو داجائز ده او مدرسينو او ملازمينو ته ددې څخه تنخواه ورکول جائز نه دي البته دتمليك دحيلې څخه وروسته داسې کولی سی څه رکم چې دزکات حکم دی. فقط

مستحق دوست ته زکات ورکولی سی: **سوال**: (۴۷۴/) يوسړی دنصاب خاوند دی اوهغه زکات دخپل مال څخه جلا کړيدی خپل يوملګری ته يې ورکړيدی بلکې ددې زکات درقم څخه دې ملګری دفائدې دپاره تجارت وکې آيا هغه زکات يوازې يورفيق ته کله چې هغه قبيله والا وي درست دی اوکه نه؟

جواب: داشرعًا درسته ده چې يو حاجتمند عيالدار ته چې دنصاب مالك نه وي دزکات زيات رقم ورکول سي، ليکن داضروري ده چې هغه رقم دې شخص ته ورکول سی اودې يې مالك وګرځوي بيا که غواړي چې هغه په تجارت کې ولګوي يا يې مصرف کړي، نو داصورت چې کم په سوال کې درج دی چې دنصاب خاوند ته په خپله ددې رفيق دپاره دزکات رقم په تجارت کې لګول درست نه دی او ددې سره زکات نه اداء کيږي بلکې دجواز صورت يې دادی چې اول هغه دزکات رقم دې رفيق ته ورکول سی بياکه غواړي نو هغه رفيق دی دخپل طرف څخه په تجارت کې دلګولو دپاره ده ته ورکړي دکم څخه چې يې په زکات کې اخستی دی (٢). فقط

جائيداد دزکات اخيستلو مانع نه دی که چيری ددې اخراجات نه پوره کيږي : **سوال**: (۴۷۵/)

---

(١). مصرف الزکوٰة الخ وهومصرف ايضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغير ذالك من الصدقات الواجبة الخ هو فقير وهو من له ادنٰی شيئ ای دون نصاب الخ ويشترط ان يکون الصرف تمليکا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۷۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹و ۳۴۴). ظفير

(٢). مصرف الزکوٰة الخ هو فقير هومن له ادنی شيئ ای دون نصاب الخ ويشترط ان يکون التصرف تمليکا الخ اعطاء فقير نصاب او اکثر الا اذا کان المدفوع اليه مديونا اوکان صاحب عيال بحيث لو فرقه عليهم لا يخص کلا او لا يفضل بعد دينه نصاب فلا يکره فتح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۷۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹، وص ۳۴۴ وص ۳۵۳). ظفير

ديوه سړى جائيداد دقيمت په اعتبار سره دزكات دنصاب څخه ډير زيات دى مثلاً سل دوه سوه روپۍ منافع ده ليكن په ټول كال كى منافع مصرف سوه اوهيڅ بچت پاته نسو، بلكى ضرورى حاجتونه په مشكله سره پوره كيږى سى نوداسى شخص ته زكات اخيستل جائزدى اوكه نه؟

جواب: په شامى كى دى چى. سئل محمد ؒ عمن له ارض يزرعها اوحانوت يستغلها اودار غلتها ثلثة الاف ولا تكفى لنفقته ونفقة عياله سنة يحل له اخذ الزكوٰة الخ (١)، ددى عبارت څخه معلومه سوه چى دغه شخص ته زكوٰة وركول درست دى.

دكم طالب العلم سره چى دوه سوه روپۍ وى په هغه باندى زكات سته اوكه نه؟ اوهغه زكات اخيستلى سى اوكه نه؟ **سوال**: (۴۷۲) يوطالب العلم مسافردى دهغه سره دوه سوه روپۍ نقدى دى دده مملوكه دده په كور كى ده داوسيدلو ځاى يې خپل نه دى يعنى خپل ملكيت يې نه دى پرمذكوره مبلغونو يې پوره قدرت دى كم وخت چى وغواړى نو را غوښتلى يى سى، په داسى حالت كى پرمذكوره مبلغونو باندى زكات سته اوكه نه؟ او داسى طالب العلم ته دزكات اخيستل اوپه خپل مصرف كى يې راوستل جائزدى اوكه نه؟ همدارنګه مسجد ته څه خوراك راغى هغه خوراك اودمسجد دتيلو څخه مطالعه كول جائزدى اوكه نه؟

جواب: په درمختار باب المصرف كى دى: وابن السبيل وهوكل من له مال لامعه (٢) الخ. نو مذكوره طالب العلم ته ددى روايت موافق زكات اخيستل درست دى مګر داسى شخص ته زكات اخيستل اودصدقى خوړل ياتيل وغيره اخيستل ښه نه دى بلكى بعضو فقهاوو ليكلى دى چى داسى سړى دى قرض وكړى اوخپل كاردى روان كړى اودخپلو روپو څخه دى بيا اداء كړى. كما فى الشامى والاولى ان يستقرض ان قدر ولا يلزم ذالك الخ (٣). او ددى روپو زكات دده په ذمه وروسته دمذكوره روپو دلاس ته راتللو څخه دتيرو كلونو هم لازميږى (۴). فقط

دغير مسلم دقبضى څخه دمسجدونو دازادولو دپاره دزكات روپۍ نه سى مصرف كيدلى:

سوال: (١ ۴۷۷) زموږ په ښار كى څو مسجدونه اوهديرى دغير مسلمو په قبضه كى

---

(١). ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴٨. ظفير

(٢). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨۴ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴٣. ظفير

(٣). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨۴ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴٣. ظفير

(۴). ولوكان الدين على مقر الخ فوصل الى ملكه لزم زكوٰة مامضى (ايضا كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٦٢). ظفير

راغلی دی اوپه هغه کی ډېره زیاته بی ادبی کیږی آیا دهغه په پرېښوولو کی دزکات روپی په کار اچولی سی اوکه نه؟

جواب: دزکات دروپو څخه دا کار نه سی کولی ځکه چی دزکات داداء کولو دپاره دا ضروری ده چی یو محتاج یا څوحاجتمندو اومسکینانو ته دا روپی بغیر دعوضه ورکول سی یعنی مالکان یې وګرځول سی (١).

محتاجه خپلوان په بل کلی کی دی نو څه وکړی؟ سوال: (٤٧٨) دزید خپلوان اودوستان محتاج دی خوپه دوهم کلی کی دی نوزیدلره دوی ته زکات ورکول په کاردی اوکه دخپل کلی محتاجانو ته اوکه یایې داسلامی مدرسی طالبانو ته ورکړی غرض داچی چاته یې ورکول زیات ښه دی؟

جواب: په درمختار کی دی چی دوهم کلی ته زکات انتقالول مکروه دی خوکه په دوهم کلی کی دده خپلوان وی یازیات محتاج وی الخ نو دخپلوانو لحاظ مخکی دی که څه هم په بل کلی کی وی لکه څنګه چی په حدیث پاك کی دی. لا يقبل الله صدقة من رجل وله قرابة محتاجون الى صلة، الحديث (٢) حاصل داچی دخپل دښار محتاجانو ته یې ورکړی اوخپل خپلوانوته یې هم ورکړی که څه هم هغه په بل کلی کی وی، مقصد دادی چی دټولو خیال دی وساتی، اوکه چیری دزکات په روپو کی ګنجائش وی نوحتىٰ الوسع هر یو حاجتمند اوخپلوانو ته دی ورکړی اوکه ګنجائش کم وو نوخپلوان دی مخکی کړی بیا دی دوهم لمبر محتاجانو اودطالبانو لحاظ کوی (٣). فقط

دنصاب خاوندان علماء چی کله خپل مال دښځی په ملکیت کی راولی نودوی ته دزکات اخیستل درست دی اوکه نه؟ سوال: (٤٧٩) کم علماء چی په تعلیم اوتعلم کی مشغول وی اودنصاب خاوندان وی دوی ته زکات اخیستل جائزدی اوکه نه؟ که هغه خپل مال دښځی په ملکیت کی کړی وی نوپه دی حیلی سره دزکات اخیستل جائزدی اوکه نه؟

جواب: کم مولوی چی دنصاب خاوندوی دهغه دپاره دزکات اخیستل منع دی او دذکر سوی حیلی څخه وروسته دزکات اخیستل دفتوىٰ دظاهر څخه جائز کیدلی سی (٤). فقط

---

(١). ويشترط ان يكون الصرف تمليكا (ايضا باب المصرف ج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٤). ظفير

(٢). ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٣. ظفير

(٣). وكره نقلها الا الى قرابة بل فى الظهيرة لاتقبل صدقة الرجل وقرابته محاويج حتىٰ يبدأ بهم فيسد حاجتهم او احوج اواصلح اواورع اوانفع للمسلمين (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٣). ظفير

(٤). ولا الى غنى يملك قدر نصاب فارغ من حاجة الاصلية من اى مال كان (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٧). ظفير

(مگر دده داعمل انتهايي ناكاره او دمواخذې قابل دی. ظفير)

دفديې رقم په ښه کار کې لګول څنګه دي؟ سوال: (۴۸۰۱) دمتوفی په ذمه دشپږو کالو روژې قضايې ده، دده وارث فدیه اداء کول غواړي ديوی روژې دغلې اندازه څومره ده آيا په يووخت کې ټوله غله ياددې قيمت يوسړي ته ورکړی اوکه يايې په کم نيك كار کې ولګوی لکه دمسجد تيارول ياديخنی په وخت کې غريبانو ته ګرمې جامې جوړول جائز دي اوکه نه؟

جواب: ديوی روژې فديه په انګريزي تول پاوکم دوه سيره غنم اويا ددې قيمت دی ([1]). مثلاً که نه سيره غنم په يوه روپی وی نوقريب ديوی روژې فديه ده، ديوه کال دديرشو روژو فديې ته دې حساب وکړی او هم دې بيا دشپږو کالو دروژې فديو ته حساب وکړی اوپه خپل حساب سره دې اداء کړی ([2]). دارقم فقيرانو اومسکينانو ته تقسيمولی سی، يوسړی ته يې ورکول ضروري نه دي اوپه يو وخت کې يې هم ورکول ضروري نه دي او دمسجد په ابادولو اوپه نورو کې يې لګول درست نه دي، اوداجائز نه دي چې ديخنی په موسم کې ددې رقم څخه برستنه جوړه کړی اويا کمبله واخلی فقيرانو ته يې تقسيموی. فقط

دزکات رقم دتبليغ په جلسه باندې لګول څنګه دي؟ سوال: (۴۸۱۱) په اکبر اباد دبجنور په علاقه کې ۴۰، **۵۰** کسان جاروکښان (بنګيان) اباد دي او دهغوی شاوخوا هندوان اباد دي، هندوانو تقريبًا پنځه زره موچيان جمعه کړل اوجلسه يې وکړه، دې خلکو ته يې په عامه توګه دمسلمانانو څخه دجلا کيدو تبليغ وکی چې دمسلمانانو سره هيڅ قسم تعلق ونه ساتي. ددې خلاف زما اراده داده چې په اکبر اباد کې جلسه وکړم اوڅو مقررين را وغواړم اوپه انګره اوپه نورو کې څلور مقررين راغواړم او دهندوانو څخه جلا اوسيدونکو ته دعوت ورکی اوداکبر اباد جارو کښانو ته دمسلمان کيدلو دعوت ورکی خو داکبر اباد په دې جلسه کې دمصارفو دپاره روپی نه وی، نوکه چيری شرعًا اجازه وی

([1]). ولو ماتوا بعدزوال العذر وجبت الوصية الخ وفدى لزوما عنه عن الميت وليه الذي يتصرف في ماله كالفطرة قدر الخ بوصية من الثلث (درمختار) هي مثل الفطرة من حيث الجنس وجواز اداء القيمة (ردالمحتار) فصل في العوارض لعدم الصوم ج۲ ص ۱۲۰ وص ۱۲۱، ط. س. ج۲ ص ۴۲۴) نصف صاع الخ من بر اودقيقه اوسويقه اوزبيب الخ اوصاع تمر اوشعير الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الفطرة ج۲ ص ۱۰۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۶۴). ظفير

([2]). دا حساب اواندازه دكال ۱۳۴۲ هـ ق ده ، اوس غله ډيره ګرانه سويده ځکه نويې قيمت هم ډير لوړ سويدی، بايد ديو داسی چا څخه يې پوښتنه وکړل سی څوك چې معلومات وربانده لری او بيا دهغه قيمت دحساب موافق يې ورکړی. ظفير

نو پیشگی دزکات دمال څخه ورته روپی برابری کړی اوپه دی جلسه کی یې مصرف کړی؟

جواب: په زکات کی داشرط دی چی دفقراوو ملکیت سی یعنی محتاجان دهغه مالك ګرځول اوکه دفقیرانو ملکیت نسی نو زکات نه ادا کیږی ([1])، نو که چیری غیر دزکات څخه بل کم صورت دچندی نه وی نودزکات درقم دی اول داسی سړی مالك جوړکړی چی هغه دنصاب مالك نه وی بیا دی هغه دخپل طرف څخه دمذکوره جلسی په مصارفو کی ولګوی نوپه دی صورت کی دزکات ورکوونکی زکات هم اداسو اودجلسی دمصارفو هم انتظام کیدلی سی او ددی زبانی تشریح دیو باخبره عالم څخه وکړی هغه په دی صورت دتملیك په پوره طریقه پوهیدلی سی ([2]). فقط

فدیه دجومات په تعمیرکی لګول جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۴۸۲) یو ډیر مالداره شخص مړ سو دده پرذمه ډیر لمونځونه او روژی وی او دمړینی په وخت نه وصیت وو او نه نور څه هیڅ نه وو، اوس دده بالغو وارثانو دخپل ذاتی مال څخه دهغه دروژو او دلمونځونو حساب ولګوی اوپوره فدیه یې اداء کړه، نو آیا ددی صدقی رقم په تعمیر دمسجد کی لګول جائز دی اوکه نه؟

جواب: داښکاره اومسلمه خبره ده چی دروژی او دلمونځونو فدیه اداء کول دمال دپریښولو اودوصیت په صورت کی پروارثانو واجب اولازم ده، اوپه دی حالت کی دا د واجبی صدقی څخه دی چی ددی مصرف همدادی چی کم دزکات مصرف وی او دفقیرانو اودنورو تملیك په دی کی دزکات په شان شرط دی. کما فی الشامی فی باب مصرف الزکوة، وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارات والنذر وغیر ذالك من الصدقات الواجبة، کما فی القهستانی ([3]). اوپه کم صورت کی چی مړی مال نه وی پری ایښی یا یې مال پری ایښی وی خو وصیت یې نه وی کړی ددی په نسبت فقهاوو دالیکلی دی چی که وارثان یې تبرعًا ددی دلمونځونو اودروژو فدیه اداء کوی نو اداء کولی یې سی نوکه الله ﷻ ته منظور وی نوهغه هم دمړی دلمونځونو اودروژو فدیه کیدلی سی، اوان شاء الله تعالی چی دا کافی کیدلی سی، نوفقهاء دفدیې تبرعا اداء کولو په باره کی (یجز به

([1]). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا الخ ولایصرف فی بناء نحو مسجد الخ (الدر المختار علی هامش رد المختار باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴). ظفیر

([2]). وحیلة التکفین ان یتصدق بها علی فقیر ثم هو یکفن فیکون الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۱). ظفیر

([3]). ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۷۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹. ظفیر

ان شآء الله) ويلي دى ([1]). ددى لپاره په ظاهره دا معلوميږى چى كم شرطونه دواجبى فديې دى هغه په دى كى ملحوظ ساتل په كاردى مثلا دفديې مقدار به هم هغه وى چى هغه دوصيت په صورت كى وو، په داسى طريقى ددى مصرف هم هغه كيدل په كاردى كمى طريقى چى دواجبى فديې دى اوتمليك يا اباحت هم په داسى طريقه كول په كاردى چى په كمه طريقه په واجبه فديه كى وى لكه چى په شامى اول جلد باب قضاء الفوائت دفديې په بيان كى دى چى: ثم اعلم انه اذا اوصى لفدية الصوم يحكم بالجواز قطعاً لانه منصوص عليه واما اذا لم يتطوع بها لوارث فقد قال محمد ؒ في الزيادات انه يجزيه انشاء الله تعالى فعلق الاجزاء بالمشية لعدم النص ؒ ([2]). ددى څخه معلومه سوه چى دفديې په حيثيتونو كى ددى تبرع لحاظ كول په كاردى، خوكه چيرى دلمونځونو او دروژو فديه اداء كول دوارثانو مقصود نه وى فقط دخيرات ثواب رسول وى نوبيا په دى صورت كى په مسجد وغيره دخير اودنيكى په مصرفونو اوتعمير وغيره كى كه څه ولګوى اودا دخير عمل اوصدقه مړى ته وليږل سى هغه ثواب مړى ته رسيږى مګر دروژى او دلمونځونو دفديې داداء كولو اومړى دغاړى په خلاصولو كى دى ددى فرائضو څخه اميد نه ساتى. فقط

خيرات په فديه كى حسابيږى اوكه نه؟ سوال: (٤٨٣١) يوى ښځى دناجوړى په حالت كى خپل خاوند ته وصيت وكړى چى زما دقضاء سوو لمونځونو اودروژو فديه زما دمړينى څخه وروسته اداء كړى ددى وصيت څخه وروسته هغه مړه سوه ددى خاوند ددفن كولو څخه مخكى څه نفقه اوجامى وغيره خيرات كړى مګردبى علمى دوجهى څخه يى دفديې نيت نه دى كړى ددى څخه علاوه تراوو اتو ورځو پورى يې دخپل وصيت برابر صدقى او خيراتونه كړى دى، داصدقه اوخيرات په فديه كى حسابيږى اوكه نه؟

جواب: دوصيت كولو په صورت كى او دمال پريښولو په صورت كى دفديې اداء كول دوارثانو پرذمه واجب دى او دواجبى فديې حكم دزكات په شان دى چى دنيت او د فقيرانو دتمليك او داسى نور احكام پردى باندى مرتب كيږى نوكله چى خاوند داخيرات اوصدقه دوفات په ورځو كى ياددى څخه وروسته كړى دفديې دادا كولو نيت يې نه وو، ددى وجه څخه دفديې اداء كول دده پرذمه واجب پاته دى كمه اندازه فديه چى معلومه وى هغه به دفديې په نيت فقيرانوته تقسيم كړى اوكم څه چى يې بغير دفديې دنيت خيرات كړى وى هغه په دى كى نه حسابيږى هكذا فى الدر المختار والشامى وغيرهما ([3]).

([1]). ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص ٦٨٢ ، ط. س. ج٢ ص ٧٢. ظفير

([2]). ايضا ج١ ص ٦٨٢ ، ط. س. ج٢ ص ٧٢. ظفير

[باقى]

په سرکاري شفاخانو کي دزکات روپي دحيلي په ذريعه ورکول درست دي اوکه نه؟ سوال: (١١ ۴٨۴) که دحکومت دخوا څخه امدادي کمه شفا خانه خلاصه سي په دي کي دزکات روپي په حيلي کولو سره ورکول جائزدي اوکه نه؟

دمسلمان په شفاخانه کي دزکات روپي لګول څنګه دي؟ سوال: (۴٨۵\١٢) اوکه چيري يې شفاخانه يوازي دمسلمانانو مسکينانو دپاره خلاصه کړي وي نوپه داسي شفاخانه کي دزکات روپي په حيلي جوړولو سره ورکول جائزدي اوکه نه؟

جواب: اصل دادي چي دزکات داداء کولو دپاره داشرط دي چي ديو غريب په ملکيت کي راسي چي هغه سيدنه وي په درمختار کي دي چي: تمليك جزء مال عينه الشارع من مسلم فقير غير هاشمي ولا مولاء انتهٰی (١) ملخصًا. اوڅه رکم چي په زکات کي دفقير مسلمان تمليك شرط دي ددي وجه څخه په تجهيز اوتکفين کي دمړي يا دمسجد او د مدرسي په تعمير کي ددي مصرفول درست نه دي اووددي دجواز حيله فقهاوو داليکلي ده چي اول دزکات زر ديو فقير په په ملکيت کي راولي بيادي هغه ته وويل سي چي هغه يې دخپل طرف څخه په مذکوره ځايونو اودهغه په رکم نوروکي مصرف کړي په درمختار کتاب الزکوٰۃ کي دي: وحيلة التكفين بها التصدق على فقير ثم هويكفن فيكون الثواب لهما وكذا في تعمير المسجد وتمامه في حيل الاشباه الخ (٢). نو په دي ذکر سوی حيلي سره په دواړو صورتونوکي په سوال مسئوله کي دزکات روپي لګولي سی او دزکات دادا کيدلو صورت په دي کي دادي چي اول دغه دزکات رقم دي ديو داسي مسلمان په ملکيت کي راولي چي دزکات مصرف وي بيا دي هغه ته وويل سي چي هغه يې دخپل طرف څخه په مذکوره شفاخانه کي ورکړي، ځکه چي اوس خو هغه دزکات روپي نه دي ورکړي بلکي دزکات مالك ددي محتاج سړي ته په ورکولو اداء کيږي اوهغه ددي مالك سويدي، اوس دده اختيار دي چي په کم ځاي کي يې غواړي هلته دي مصرف کړي. فقط

دزکات دروپو څخه حج کول څنګه دي؟ سوال: (١١ ۴٨٦) دزکات دروپو څخه دخلګو حج کول څنګه دي؟

دزکات دروپو څخه دقرآن کريم اخيستل اوپه امير اوغريب باندي تقسيمول: **سوال**: (۴٨٧\١٢)

---

(٣). مصرف الزكوٰة الخ هومصرف ايضا لصدقة الفطر والكفارة والنذر وغير ذالك من الصدقات الواجبات الخ ويشترط ان يكون الصرف تمليكا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج ٣٣٩ و٢۴۴). ظفير

(١). ويشترط ان يكون الصرف تمليكا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨۵ ، ط. س. ج٢ ص ٣۴۴). ظفير

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١. ظفير

دزکات دروپو څخه یې قرآن مجید واخیستی نو امیرانو اوغریبانو اوهلکانو ته یې تقسیمول څنګه دی؟

دزکات دروپو څخه غوړ والي جوړول درست دي اوکه نه؟ سوال: (۴۸۸\۳) دزکات دروپو څخه غوړوالی جوړول درست دی اوکه نه؟

یوانسان ته څومره زکات ورکول کیږي؟ سوال: (۴۸۹\۴) یوانسان ته څومره زکات ورکول په کاردی؟

جواب: \۱: که حج کوونکی ته هغه روپی په ملکیت کی راولی چی هغه خپل حج باندی وکړی، یاپه کم مصرف کی چی غواړی رایې ولی نودا درسته ده اوزکات اداء سو ([1]).

\۲: قرآن کریم چی یې دزکات دروپو څخه واخیستی نوکه چیری یې غریبانو هلکانو او لویانو ته تقسیم کړی وی نو دا جائزده خو زکات یې نه اداء کیږی هغه به بیا ورکول کیږی ([2]).

\۳: دزکات په روپو داسی کار کول درست نه دی ځکه چی دزکات په اداء کولو کی دا شرط دی چی غریبان به ددی مالك ګرځوی که مدرسه یاجومات ددی څخه جوړول غواړی یاپه غوړوالیو یانورو کی په مصرفولو سره زکات نسی اداء کیدلی په ده باندی بیا زکات ورکول لازم دی ([3]).

\۴: یوسړی ته چی محتاج وی دنصاب څخه کم مال دزکات ورکول په کاردی دنصاب په اندازه ورکول مکروه دی خوکه هغه قرضداری وی نودنصاب یا دنصاب څخه زیات ورکول هم درست دی ([4]). فقط

دزکات څخه مدرس، مؤذن او نوروته میاشتنی تنخواه ورکول درست دي اوکه نه؟ سوال:

(۴۹۰\۱) دزکات دمال څخه دمدرسی استاذانو یا مؤذن یا دامام ماهانه تنخواه ورکول

([1]). وکره اعطاء فقیر نصابا اواکثر الا اذا کان المدفوع الیه مدیونا اوکان صاحب عیال بحیث لوفرقه علیهم لا یخص کلا اولا یفضل بعد دینه نصاب فلا یکره فتح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۹۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۳) ددی څخه معلومه سوه چی یوسړی ته دومره روپی ورکول دحج دپاره مکروه دی لیکن دغه فقیر دمالك کیدلو څخه وروسته ددی روپو څخه حج کول سی لیکن دزکوٰة دروپو څخه حج کول دمصارفو دزکات دمقصد سراسر خلاف ورزی ده چی ددی څخه ځان ساتل ضروری دی. والله اعلم. ظفیر

([2]). مصرف الزکوٰة الخ هوفقیر الخ ومسکین الخ ویشترط ان یکون الصرف تملیکا (ایضا ج۲ ص ۷۹). ظفیر

([3]). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة کمامر لایصرف الی بناء نحو مسجد ولا الی کفن میت وقضاء دینه (درمختار) نحومسجد کبناء القناطر والسقایات واصلاح الطرقات وکری الانهار والحج والجهاد وکل ما لا تملیك فیه، زیلعی (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴) . ظفیر

([4]). وکره اعطاء فقیر نصابا الا اذا کان المدفوع الیه مدیونا اوکان صاحب عیال الخ لایکره (ایضا ج۲ ص ۹۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۳). ظفیر

درست دی اوکه نه؟ څه رکم چې داخلګ ددین خدمت کوی ددوی کمك دزکات څخه کیدلای سی اوکه نه؟ اوامام صاحب دتملیك شرط څنګه لګولی دی په: انما الصدقات للفقراء الخ. کی خولام دنفع دپاره هم راتلای سی ددی په تملیك کولو باندی دحمل کولو څه منشاء ده ددی په باره کی کمه تصریح دحدیث سته اوکه نه؟

جواب: په زکات کی تملیك اوداسی نور شروط دی لکه څنګه چې دایات د: انما الصدقات للفقراء، الآیة څخه مستفاد ده څنګه چې اول دصدقی لفظ همدا دفقیرانو تملیك غواړی اوبیا لام دتملیك ددی صریح دلیل دی اودنفع دپاره يې ویل هم ددی سره منافی نه دی ځکه چې تامه نفعه وروسته ترتملیك ومملوك له ته ویل کیږی اوپه حدیث پاك: تؤخذ من اموالهم وترد الی فقرآء هم (١). کی ددی دلیل دی ځکه چې د: تؤخذ څخه داغنیاء دملك څخه خروج ثابت سو. اود: وترد الی فقرآءهم، څخه دفقیرانو دملکیت تقاضٰی کوی په هرحال کله چې په زکات کی دفقراء تملیك ضروری کیدل، اودصدقی په لفظ کی داپه کاردی چې بغیر دځه عوض څخه وی اوکه نه صدقی نه پاته کیږی نو دملازمینو اودمدرسینو تنخواه ورکول دزکات څخه جائزنه دی اوپه داسی مصارفو کی دلګولو دپاره دتملیك حیله ضروری ده اوکه نه زکات به اداء نسی څنګه چې صاحب دهدایې رحمه الله لیکلی دی چې: ولا یبنی بها مسجد ولا یکفن بها میت لانعدام التملیك وهو الرکن (٢). په فتح القدیر کی دی: قوله لانعدام التملیك وهوالرکن، فان الله تعالٰی سماها صدقة وحقیقة الصدقة تملیك المال من الفقیر الخ، فتح، ولا یدفع الی مدبره ومکاتبه الخ لفقدان التملیك الخ (٣). وګوره دهدایی صاحب رحمه الله په ځینو ځایونو کی دعدم تملیك څخه علت دعدم جواز قرار ورکړی دی. فقط

دزکات څخه تبلیغ کوونکو ته وظیفی ورکول څنګه دی؟ سوال: (۴۹۱۱) دزکات څخه مبلغینو دتبلیغ انجمن او طالبانو ته وظائف ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: طالبانو اومسکینانو ته دزکات څخه وظیفه ورکول جائزدی (٤) او دمبلغینو په تنخواه کی دتملیك حیله ضروری ده (بغیر دحیلی څخه يې ورکول درست نه دی ځکه چې دزکات دپاره تملیك شرط دی. ظفیر)

---

(١). ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٢. ظفیر

(٢). هدایه باب من یجوز دفع الصدقات الیه ج ١ ص ١٨٨. ظفیر

(٣). فتح القدیر باب من یجوز دفع الصدقات الیه ج٢ ص ٢٠ – ٢٣ . ظفیر

(٤). مصرف الزکوٰة الخ هوفقیر الخ ومسکین الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفیر

امام ته په اجرت کی عشر ورکول درست نه دي: **سوال**: (۴۹۲\) امام ته په اجرت کی عشر ورکول جائزدی اوکه نه؟ ناجائز ویونکی ته چی کم شخص معتزله ووایې نوددی دپاره څه حکم دی؟

جواب: دعشر مصرف هغه دی کم چی دزکات مصرف دی څه رکم چی یې په شامی باب مصرف الزکوٰة کی لیکلی دی: وهومصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذالك من الصدقات الواجبة الخ (١). نو څه رکم چی زکات دامامت په مصرف کی ناجائز دی په همدی طریقی سره عشر اوصدقه فطر هم په اجرت کی ورکول ناجائز دی اوپه دی صورت کی عشر، سرسایه او واجب صدقات نه اداء کیږی اوپه عدم جواز قائلین ټول فقهاء دی.

دجائیداد په موجودیت سره چی ګذاره نه کیږی نوزکات ورکول کیدی سی اوکه نه ؟ سوال: (۴۹۳\) دنابالغو سره پوره جائیداد دی لیکن دنابالغوالی په وجه یې ګذاره نه چلیږی دوی ته زکات ورکول یا ددوی قرض اداء کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: ددی نابالغو ګذاره چی کله ددوی دجائیداد دآمدنی څخه نه کیږی نودوی ته دزکات روپی ورکول درست دی، کما نقل عن محمد رحمه الله کذا فی الشامی (٢). او ددوی قرض په دی طریقه اداء کول جائزدی چی اول دهغه زکات روپی ددغه یتیمانو په ملك کی راولی او بیایې هغه په خپل قرض کی ورکړی یاهغه ته وویل سی چی خپله دهغه څخه هغه روپی واخله، اودهغه قرض دی اداء کړی.

کافرانو ته زکات ورکول درست نه دي: **سوال**: (۴۹۴\) دزکات ورکول کافرانو ته درست دی اوکه نه؟ اود: انما الصدقات للفقراء، ایات کریمه څخه څه مراد دی ؟

جواب: دزکات تعریف په درمختار وغیره کی دادی چی : تملیك جزء مال عینه الشارع من مسلم فقیر الخ (٣). ددی دامطلب دی چی زکات په شریعت کی دی ته وایې چی دخپل مال یوه معلومه برخه کمه چی شارع معینه کړیده مثلا څلویښتمه برخه محتاجو مسلمانانو ته ورکول کیږی اوهغه به یې مالك جوړیږی نو معلومه سوه چی دزکات داداء کولو دپاره دالازمی شرط دی چی مسلمانانو ته دی ورکول سی کم چی دزکات مصرف

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩. ظفیر

(٢). سئل محمد عمن له ارض یزرعها اوحانوت یستغلها اودار غلتها ثلاثة الاف ولاتکفی لنفقته ونفقة عیاله سنة یحل له اخذ الزکوٰة وان کانت قیمتها تبلغ الوفا وعلیه الفتوٰی (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٨). ظفیر

(٣). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکات ج٢ ص ٣ - ٤ ، ط. س. ج٢ ص ٢٥٢ و٢٥٧). ظفیر

وی اوپه: انما الصدقات للفقراء والمساكين (١) الآية. کی دفقیرانو اومسکینانو څخه مسلمانان فقیران اومسکینان مراد دی دامت په اجماع سره، البته نفلی خیرات ذمیانو یعنی کافرانو ته ورکولی سی داسی په درمختار کی لیکلی دی: وجاز دفع غيرها وغير العشر والخراج اليه اى الذمى (٢). یعنی دزکات، عشر اوخراج څخه غیر نور صدقات ذمی (کافر) ته ورکول درست دی. فقط

زکات نورو ملکونو ته لیږل څنګه دی؟ سوال: (١\٤٩٥) آیا دزکات روپی غیر اسلامی ممالکوته لیږلی سی اوپه نورو ملکونو کی دمسلمانانو په کمك کی یې مصرفولی سی.

دزکات څخه دخپل طرف څخه حج کول څنګه دی؟ سوال: (٢\٤٩٦) آیا دزکات دروپو څخه حج کولی سی که چیری کولی سی نوآیا دخپلو دوستانو خپلوانو څخه یې هم کولی سی؟

جواب: ١\: دزکات روپی غیر اسلامی مملکتونو حاجتمندو مسلمانانو ته ورکول هم درست دی لکن داشرط دی چی چاته یې ورکوی هغه دنصاب مالك نه وی او هغه یې مالك وګرځوی اوښه داده چی دخپل ښار غریبانو اوفقیرانو ته یې تقسیم کړی (٣).

٢\: دزکات دروپو څخه خپل حج کول درست نه دی مګر داجائز دی چی یو فقیر دزکات دروپو مالك وګرځوی، بیاکه هغه خپل حج کوی یایې په نورو مصارفو کی لګوی ده ته اختیار دی، غرض دادی چی دزکات په روپوکی مالك جوړول اومحتاج ته یې ورکول شرط دی بغیر ددی څخه زکات نه اداء کیږی (٤). (مګر ددی سره داهم معلومه سوه چی یو شخص ته دومره رقم ورکول دکراهیت څخه خالی نه دی. ظفیر)

دقربانی دڅرمنی په قیمت کی تملیک: سوال: (١\٤٩٧) دمدرسی مهتمم دقربانی څرمن دخپل طرف څخه خرڅه کړه چی دمدرسی په داخل کی حواله کړیده آیا په دی کی تملیك شرط دی اوبغیر دتملیك څخه دنورو مالونو په شان هغه لګولی سی اوکه نه؟

بغیر دتملیک څخه یې ولګوی نوڅه حکم دی؟ سوال: (٢\٤٩٨) که دمدرسی مهتمم بغیر د تملیك څخه ددی څرمنی قیمت مصرف کړی ، نو پر قربانی کوونکی به دوباره دقربانی د

---

(١). سورة توبه رکوع ٨. ظفير

(٢). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٢، ددی څخه مخکی عبارت دادی. ولا تدفع الى ذمى لحديث معاذ ﷺ (ايضا، ط. س. ج٢ ص ٣٥١). ظفير

(٣). وكره نقلها الا الى قرابة ﷺ او احوج او اصلح او اورع او انفع للمسلمين (درمختار) قوله: كره نقلها اى من بلد الى بلد اخر لان فيه رعاية حق الجواز فكان اولى، زيلعى، والمتبادر منه ان الكراهية تنزيهية تامل فلو نقلها جاز لان المصرف مطلق الفقراء (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٩٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٣). ظفير

(٤). ويشترط ان يكون الصرف تمليكا لا اباحة لايجوز الى بناء نحو مسجد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٤) . ظفير

ځرمنې قیمت خیرات کول واجب وی اوکه نه ؟

جواب: ۱\ ، ۲ : دمدرسی مهتمم ته په کاردی چی دقربانی ځرمن دخرڅولو څخه وروسته دهغه قیمت دزکات په شان تملیك کړی په مدرسه کی په کم مصرف کی چی غواړی مصرف دی کړی که چیری دمدرسی مهتمم دا قیمت بغیر دتملیك دحیلی څخه په داسی ځای کی ولګوی چی کم دقربانی دځرمنی اوزکات مصرف نه وی لکه دملازمینو او داستاذانو په تنخوا کی یې ورکړی نوقربانی کوونکی ته ددی قیمت په اندازه صدقه کول واجب دی اوکه چیری دطالبانو په مصرف کی ولګوی نوقربانی اداء سوه، دوباره ددی قیمت خیرات کول په مالك باندی واجب (۱) نه دی.

دزکات دروپو څخه دمدرسی دپاره ځای اخیستل ناجائزنه دی: **سوال**: (۴۹۹\) دزید اودعمر اودنورو دخوا څخه یوه اسلامی مدرسه روانه ده اوس دهغه حالت داسی سویدی چی دهغه مدرسی لګښت نه سی پورته کولی اودزکات دروپو څخه یې ځای واخیستی دهغه دآمدنی څخه داستاذانو تنخواه اونورو ته ورکول غواړی داصورت جائزدی اوکه نه؟

جواب: دزکات په روپو ځای اخیستل په ذکر سوی غرض سره شرعًا جائزنه دی، په دی کی زکات نه اداء کیږی لیکن فقهاوو په دی قسم کارونو کی دجواز داصورت لیکلی دی چی دزکات روپی اول دیو داسی شخص په ملك کی راوله چی هغه دزکات مصرف وی یعنی هغه سړی دنصاب مالك نه وی بیا هغه سړی داروپی په خپل ملکیت اوقبضه کی واخلی اوپه مذکوره غرض کی دی ولګوی (۲). فقط

دخاوند اولاد ته زکات ورکول جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (۵۰۰\) هنده دخپل خاوند اولاد چی دبلی ښځی څخه دی زکات ورکولی سی اوکه نه؟

دچا سره چی زیات مکان وی هغه دزکات مصرف دی: **سوال**: (۵۰۱\۱) دچا سره چی غیر داوسیدلو دځای څخه دوهم مکان وی چی دهغه قیمت دنصاب څخه زیات وی نوهغه دزکات مصرف دی اوکه نه؟

جواب: ۱\ : ورکولی یې سی (۳).

۲\ : که چیری دده سره غیر دمکان څخه نور مال دنصاب په اندازه نه وی اوآمدنی کرایه

---

(۱). وګوری ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۱. ظفیر

(۲). وحیلة التکفین التصدق بها علی فقیر ثم هو یکفن الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۱). ظفیر

(۳). ولا الی من بینهما ولاد (درمختار) قید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲). ظفیر

دده سره دنصاب په اندازه نه ده جمع سوی اوهغه حاجتمند وی اوهغه دوهم مکان دتجارت دپاره نه وی نوده ته زکات ورکول جائزدی اوپرده باندی قربانی واجب نه ده ([1]). فقط

دنصاب ملک مطلقا دزکات داخیستلو مانع دی اوکه نه؟ سوال: (۲\۵۰۲) دنصاب ملکیت مطلقا دفرضی زکات داخیستلو مانع دی که نه دی اوکم سړی چی دغنی عالم دپاره دزکات اخیستل جائز ویلی دی یعنی نصاب یې مطلقا مانع نه دی ویلی دده وینا صحیح ده اوکه نه؟

جواب: مطلق نصاب دفرضی زکات مانع نه دی، کار کوونکی، زکات راجمع کونکی، عشر راغونډونکی دپاره یې دزکات اخیستل جائز ګرځولی دی که څه هم هغه غنی وی، په دی طریقه دطالب العلم دپاره دفقهاوو په عباراتو کی دزکات داخیستلو جواز پیدا کیږی. کما فی الدر المختار وبهذا التعلیل یقوی مانصب للواقعات من ان من طالب العلم یجوز له اخذ الزکاة ولو غنیاً اذا فرغ نفسه لافادة العلم واستفادته لعجزه عن الکسب والحاجة داعیة الی ما لا بد منه کذا ذکره المصنف ؒ درمختار باب المصرف ([2]). یعنی کم سړی چی دشرعی علم په ویلو کی خپل ځان دکار اودکسب څخه فارغه کړی وی دشرعی علومو په حاصلولو کی یا نورو ته دده څخه په استفاده اخیستلوکی مشغول وی دی سړی ته دزکات اخیستل جائز دی که څه هم هغه دنصاب خاوند هم ولی نه وی، اوپاته سوه داچی مالدار عالم چی دهغه ذریعی موجودی دی ددی دپاره دزکات داخیستلو په جواز کی دفقهاوو دعباراتو څخه نه ده راوتلی بلکی دطالب العلم په حق کی دپورتنی شرطونو سره اجازه ورکړی ده او علامه شامی دغنی طالب علم دنصاب خاوند لره هم دزکات اخیستلو حرمت ته راجح ویلی دی اودا جزئی واقعات یې ضعیف اوغیر معتبر ګڼلی دی. حیث قال وهذا الفرع مخالف لاطلاقهم الحرمة فی الغنی ولم یعتمده احد، قلت: وهو کذالك والاوجه تقییده بالفقیر ویکون طلب العلم مرخصا لجواز سؤاله من الزکوٰة وغیرها وان کان قادرا علی الکسب اذ بدونه لا یحل له السوال الخ ([3]). فقط

([1]). وفیها سئل محمد عمن له ارض یزرعها اوحانوت یستغلها او دار غلتها ثلاثة الاف ولاتکفی لنفقة ونفقة عیاله سنة یحل له اخذ الزکوٰة وان کانت قیمتها تبلغ الوفا وعلیه الفتوٰی (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۸). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۱ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۰. ظفیر

([3]). ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۱۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۰. ظفیر

ښځې اوخاوند ته زکات ورکول کيږي اوکه نه؟ سوال: (۵۰۳\) چې خاوند ښځې ته اوښځه خاوند ته زکات ورکړي نوجائز ده اوکه نه؟

جواب: جائز نه دی (۱). فقط

دمسافرقرض دزکات څخه اداء کيږي اوکه نه؟ سوال: (۵۰۴\) زه دنصاب خاوند مالدار یم زما دمال دزکات روپۍ زماپه وطن کې موجودې دی ایا ددې روپو څخه دیو داسې سړی قرض اداء کيږي چې هغه عالم وی شریف وی مسافروی، عیالداره وی اوقرض داره وی؟

جواب: که هغه عالم مسافر دنصاب مالك نه وی بلکې قرضداره وی اوسیدنه وی نوده ته زکات ورکول اودومره اندازه روپۍ ورکول چې دهغه څخه قرض پورته سی درست دی. کما قال الله تعالی انما الصدقات للفقراء والمساکین (۲) الآیة. فقط

زکات دحیلې په ذریعه په مدرسه باندې لګول څنګه دی؟ سوال: (۵۰۵\) زید په دې نیت دزکات اوصدقات روپۍ جمع کړې چې دتملیك حیله وکړې پریتیمانو باندې او د اسلامي مدرسې داستاذانو په تنخوا کې یې مصرف کې داجائز دی اوکه نه؟

جواب: وروسته دحیلې څخه زکات اوواجب صدقات دمدرسې په ملازمینو اوداستاذانو په تنخواکې لګول درست (۳) دی. فقط

په في سبیل الله کې کم خلك داخل دي؟ سوال: (۵۰۶\) دانما الصدقات للفقراء، په ایت کریمه کې په:وفی سبیل الله، کې کم کم مصارف داخل دی ددفتر عمله، دتبلیغ انجمنونه اوداسلام دحفاظت په تنخوا اودخوراك اودسفر وغیره مصارف په دې کې داخل دی او که نه؟

جواب: په درمختار کې دی: وفی سبیل الله وهو منقطع الغزاة وقیل الحاج وقیل طلبة العلم فسره فی البدائع بجمیع القرب الخ (۴). غرض دادی چې په فی سبیل الله کې بې شکه دصاحب بدائع دتفسیر موافق ټول دخیر اودنیکی مصرفونه داخل دی لیکن کم

---

(۱). ولا الی من بینهما ولاد الخ او زوجیة ولومباینه وقالا هی تدفع لزوجها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲) ولا یدفع المزکی زکوٰة ماله الی ابیه الخ ولا الی امراته للاشتراك فی المنافع عادة ولا تدفع المرأة الی زوجها عند ابی حنیفة لما ذکرنا وقالا تدفع الیه لقوله ﷺ لك اجران اجر الصدقة واجر الصلة قاله لامرأة ابن مسعود رضی الله عنه وقد سألته عن التصدق علیه قلنا هو محمول علی النافلة (هدایه باب من یحوز دفع الصدقات الیه ج۱ ص ۱۸۸). ظفیر

(۲). سورة التوبة : رکوع ۸. ظفیر

(۳). وحیلة التکفین بها التصدق علی فقیر ثم هو یکفن فیکون الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۱). ظفیر

(۴). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج ۲ ص ۸۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۳. ظفیر

شرط دزکات داداء کولو چی دی هغه په ټولو ځایونوکی ملحوظ ساتل ضروری دی هغه دادی چی بغیر دعوض څخه محتاج مالك ګرځول ضروری دی ددی دپاره اول دتملیك حیله کول پکاردی او دتملیك څخه وروسته دتبلیغ وغیره دملازمینو په تنخوا کی اوپه نوروکی ددی لګول درست کیږی. فقط

دنصاب مالکی کونډې ښځی ته زکات ورکول جائزدي اوکه نه؟ **سوال**: (۵۰۷\۱) دیوی کونډې ښځی سره مال دی چی دزکات ورکولو لائقه ده ددی څو واړه بچی دی، دوی ته زکوٰۃ ورکول درست دی اوکه نه؟

جواب: کمه ښځه چی دنصاب مالکه وی دی ته اوددی نابالغه بچیانو ته زکات ورکول درست نه دی ددی سره زکات نه اداء کیږی لکه چی باری تعالی فرمایلی دی: انما الصدقات للفقراء والمساکین ..... الایة (۱). فقط

مسافر زکات اخیستی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۵۰۸\۱) که مسافر دخپل وطن څخه روپی را غوښتلی سی بیا هم زکات اخیستی سی اوکه نه؟

صرف مځکی لری زکات اخیستی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۵۰۹\۲) دچاسره چی مځکه وی او نغدی روپی نه وی ده لره زکات اخیستل جائزدی اوکه نه؟

جواب: ۱\ : دمسافر دپاره زکات اخیستل درست دی کله چی دده سره دنصاب په اندازه مال نه وی که څه هم دده سره په خپل ځای کی وی (۲). فقط

۲\ : که دګذاری برابر جائیداد اومځکه نه وی نوده لره زکات اوصدقه اخیستل درست دی (۳).

دکمی مدرسی په نوم چی زکات وصول کړی چی هغه مدرسه قائمه نه وی نوڅه وکړی؟

سوال: (۵۱۰\۱) یوسړی سرسایه اودقربانی روپی وصول کړی چی په فلانکی ځای کی به مدرسه جوړیږی بیا هغه مدرسه په څه سبب جوړه نه سوه نوپه دوهمه مدرسه کی یې لګول جائزدی اوکه نه؟ که بالکل یې مصرف نه کړی نو دالله ﷻ په نزد ماخوذ کیږی او که نه؟

---

(۱). سورة توبه رکوع ۸، ولا الی غنی یملك قدر نصاب فارغ عن حاجة الاصلية من ای مال كان (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۷). ظفیر

(۲). سئل محمد عمن له ارض یزرعها اوحانوت یستغلها اودار غلتها ثلاثة الاف ولاتكفی لنفقته ونفقة عیاله سنة یحل له اخذ الزكوٰة وان كانت قيمتها تبلغ الوفا (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۸). ظفیر

(۳). ابن السبيل وهوكل من له مال لامعه الخ يصرف المزكی الی كلهم اوالی بعضهم (درمختار) قوله ابن السبيل هو المسافر سمی به للزومه الطريق (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۳). ظفیر

جواب: ددی په مصرف کی صرف کول غواړی که چیری په یومصرف کی دڅه شی په وجه مصرف نه سولی نوپه دوهم کی دی مصرف کړی، ددی ښه مصرف ددین طالبان دی، که چیری دی سړی په دی مصرف کی ونه لګولی نو دالله ﷻ په نزد ماخوذ کیږی ده ته ددی په مصرف کولو کی څه حق نسته ([1]). فقط

بی نمازوته په زکات ورکولو سره زکات اداء کیږی اوکه نه؟ سوال: (۵۱۱) بی نمازو ته دزکات مال ورکول جائزدی اوکه نه؟ نعمانیه انجمن دهند او دلاهور په میاشتنۍ رساله کی لیکلی دی چی بی نمازه که هرڅومره مسکینان وی دوی ته دزکات په ورکولو سره زکات نه اداء کیږی، دوباره اداء کول یې واجب دی ؟

جواب: بی نمازه محتاجانو ته په زکات ورکولو سره زکات اداء کیږی ځکه چی داحنافو په نزد په لمونځ پرینښولو سره سړی نه کافر کیږی البته دلمانځه پرینښوول فسق اوکبیره ګناه ده مګر کفر نه دی له دی وجه څخه دلمانځه پرینښوونکی کله چی هغه محتاج وی زکات ورکول درست دی اوزکات اداء سو او داکثره امامانو همدغه مذهب دی چی دلمانځه ترك کوونکی کافر نه دی ([2]).

دغیر مقلدینو عقیده ده چی دلمونځ پرینښوونکی کافر کیږی اودجمهور اهل سنتو په نزد هغه حدیث ماول دی په کم کی چی په تارك الصلوٰة باندی دکفر اطلاق راغلی دی. فقط

دزکات استعمال په روژه مات کی درست دی اوکه نه؟ سوال: (۵۱۲) په روژه مات کی دزکات استعمال جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیری داباحت په توګه وی څنګه چی عام رواج دی نوجائز نه دی .کذا فی الدر المختار تحت قوله تملیك خرج الاباحة فلو اطعم یتیما ناویا الزکوٰة لا تجزیه الا اذا ادفع الیه المطعوم کما لو کساه بشرط ان یعقل القبض ([3]) اوکه چیری ماوجب مقدار دخوراك اوڅښاك دجنس څخه په دی طریقه اداء کړی چی فقیرانو اومسکینانو ته دروژه ماتی په وخت کی دتملیك په ډول ورکول سی اوهغوی دقبض کولو پوهه هم ولری په دی صورت کی کیدی سی چی زکات اداء سی اومراد دپوهی دقبض څخه دادی چی دومره کوچنی ماشوم نه وی چی په قبض کولو نه پوهیږی. کما مر من الدر المختار.

([1]). ولا یجوز دفع الزکوٰة الی من یملك نصابا من ای مال کان (عالمگیری ج۱ ص ۱۸۹) ولوکیل ان یدفع لولده الفقیر وزجته لا لنفسه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۹). ظ

([2]). وتارك الصلاة عمداً کسلا یضرب ضربا شدیداً حتی یسیل منه الدم الخ ولا یقتل بمجرد ترك الصلاة والصوم مع الاقرار بفرضیتها الا اذا جحد افتراضها الصلاة او الصوم لانکار ما کان معلوما من الدین اجماعا الخ (مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی قبیل باب الوتر ج۱ ص ۲۰۴). ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۵۲ – ۲۵۷). ظفیر

ښځه دګینې زکات دکم شي څخه وباسي؟ سوال: (۵۱۳\) څه رکم چي ګینه دښځي ذاتي ملکیت دی، دهغه دزکات بار پرنارینه وو باندی اچول کیږی اوکه چیری ښځه پخپله زکات اداء کړی نوڅنګه ده؟ ځکه چي دهغی سره دګینی څخه علاوه نورڅه نه سته؟

جواب: کمه ګینه چي دښځي په قبضه اوپه ملکیت کی وی اودنصاب په اندازه وی نو ددی زکات دهمدی ښځي په ذمه واجب دی، خوکه چیری ددی ښځي خاوند یې تبرعًا ددی له طرف څخه ورکوی اویایې ښځه ددی څخه واخلی اوور یې کړی یاکمه خرچه ددی خاوند دی ته ورکړی اوهغه یې ددی څخه اداء کړی نودا جائزده اوکه هیڅ هم ونه کړی نو بیا دابنځه دداسی ګینی څخه زکات ورکولی سی (١). فقط

په اسلامي مکتب کي دزکات ورکول جائزدي اوکه نه؟ سوال: (۵۱۴\) امدادی انجمن یو اسلامي مکتب په کالکان کي دښځو دتعلیم دپاره یوه زنانی مدرسه تیاره کړه ددی وجه څخه دا انجمن اته سوه روپی قرضدار دی ظاهرًا داداء کولو کم صورت یې نسته، زکات او دفطر صدقه ددی قرض په اداء کولو کي مصرفولی سی اوکه نه؟

جواب: دزکات او دسرسایې رقم وروسته دتملیك دحیلی څخه ددی قرض په اداء کولو کي لګولی سی او دتملیك حیله یې په درمختار کي دا لیکلی ده چي اول دارقم دزکات وغیره دداسی سړی مالك وګرځوی چي هغه دنصاب مالك نه وی بیا هغه شخص یې دخپل طرف څخه هغه مدرسی ته ورکړی چي ددی روپوڅخه دی قرض اداء کي اوپه نورو ضروریاتو دمدرسی کي دی ولګول سی (٢).

زکات غیر مستحق ته ورکول درست نه دي: سوال: (۵۱۵\) زکات غیر مستحق ته ورکول یا دسرسایې، یا دقربانی څرمن روپی دخاندان یومالدار اومشر که جبرًا وصول کړی اوغیر مستحقینو ته یې ورکړی نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: جائز نه دی (٣). فقط

مالدارو کسبي فقیرانو ته دزکات رقم ورکول درست نه دي: سوال: (۵۱٦\) دلته زموږ داسی فقیران مسکینان نسته کم چي دخیرات اخیستلو قابل دی ځکه چي نن سبا فقیران دمالدارانو څخه په ډیرو درجو ښه دی اوپه ځانګړی توګه ددی کلی فقیر چي دنصاب

(١). نصاب الذهب عشرون مثقالا والفضة مائتا درهم الخ والمعتبر وزنهما اداء ووجوبا لاقيمتها واللازم في مضروب كل منهما ومعموله ولوتبرا اوخليا مطلقا الخ عشر ربع (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ۴٠ وص ۴١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩۴ – ٢٩٨). ظفير

(٢). وحيلة التكفين التصدق على فقير ثم هو يكفن فيكون الثواب لهما وكذا في تعمير المسجد الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١) . ظفير

(٣). قال الله تعالى انما الصدقات للفقراء والمساكين الخ. ظفير

خاوند وی اوپه هغه باندی زکات فرض وی که چیری شرعًا داحکم وی چی داسی فقیرانو ته ورکول جائزنه وی نوپه اسلامی مدرسه کی یی لګول جائزدی اوکه نه؟

جواب: داسی په نوم فقیرانوته چی مالدار او دنصاب خاوندان وی دفطر صدقه اونور واجب صدقات ورکول نه دی په کار (١)، بلکی مدرسی ته دی ورورل سی اوپه مسکینو اوغریبو طالبانو دی مصرف سی اوکه دفقیر دتملیك څخه وروسته یې دمدرس په تنخوا کی ورکړی نودرست دی اودفقیر دتملیك داصورت دی چی صدقه فطر یا زکات اول دداسی سړی په ملکیت کی راولی چی هغه واقعةً فقیر وی او دنصاب مالك نه وی بیا هغه دی دخپل طرف څخه په مدرسه کی داخلی کړی. فقط

وکیل خپله زکات اخیستلی سی اوکه نه؟ سوال: (٥١٧) زید عمر وکیل وګرځوی چی لس روپی دزکات مستحقینو ته زما دطرف څخه ورکړه، اتفاقا عمرو په خپله فقیر سو، او دوکیل ګرځیدلو په وخت غنی وو، نوپه دی حالت کی چی عمر فقیر دی، اوهغه زکات چی موکل دمستحقینو لپاره ورکړی دی، خپله یې ځانته اخستی سی اوکه نه؟

جواب: وکیل ته دموکل زکات اخیستل جائزنه دی مګر که داسی یې ورته ویلی وی چی هر رکم دی چی خوښه وی مصرف یې کړه. کما فی الدر المختار وللوکیل ان یدفع لولده الفقیر وزوجته لالنفسه الا ذا قال ربها ضعها حیث شئت الخ (٢) نوکه وروسته وکیل فقیر سی اوموکل داویلی وی چی په هرځای کی دی چی خوښه وی مصرف یې کړه نوبیا یې ځان ته اخیستی سی. فقط

دحیلی په ډول دزکات په روپو باندی دقبرستان دپاره مځکه اخیستل څنګه دی؟ سوال: (٥١٨) یوسړی غواړی چی دزکات دروپو څخه دقبرستان دپاره مځکه واخلی او وقف یې کړی په داسی طریقی سره چی دزکات روپی یو محتاج ته ورکړی اوهغه درباندی دقبرستان دپاره مځکه واخلی او وقف یې کړی نو زکات اداء سو اوکه نه؟ اوثواب یوازی محتاج ته رسیږی اوکه نه زکات ورکوونکی ته هم؟

جواب: په دی طریقه زکات اداء کیږی اول به دغه روپی یو محتاجه ته ورکول سی اوهغه به ددی مالك وګرځول سی اوبیادی ورسره مشوره وسی چی په دغه روپو دی دقبرستان دپاره مځکه واخلی، نودغه صورت جائزدی لیکن دمالك کیدو څخه وروسته یې اختیار دی چی هغه داسی کوی او که یې نه کوی ، او که داسی یې وکړه نو ثواب یې دواړو ته

(١). مصرف الزکوة الخ هوفقیر وهومن له ادنٰی شی ای دون نصاب الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٣٩). ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوة ج٢ ص ١۴ وص١۵ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٩. ظفیر

رسیږی ([1]). فقط

آیا دعقیقی دڅرمني قیمت پخپله مصرفولی سی اوکه نه؟ سوال: (۵۱۹/۱) دعقیقی څرمنه چی خرڅه کړی نوقیمت یې پخپله مصرفولی سی اوکه نه؟

جواب: نه یې سی مصرفولی ([2]). فقط

که خپلو مفلسو خپلوانو ته زکات ورنه کړی سوال: (۵۲۰/۱) که خلگ خپل مفلسان خپلوان پریږدی اونورو ته زکات ورکوی نو داکار څنگه دی؟

جواب: مقدم هغه څوك دی چی خپلوان وی اومفلس اوغریب وی له دی وروسته دی دنورو ځایونو غریبانانو اوفقیرانو ته ورکول سی لږ لږ دی جلا جلا کړی اوڅه دی غریبو خپلوانو ته ورکړی اوباقی دی نورو غریبانانو ته ورکړی، حاصل داچی زکات هرغریب مفلس ته اداء کیږی لیکن غریبو خپلوانو ته یې ورکول زیات ثواب لری ([3]). فقط

داهل نصاب بچیانو ته دزکات دروپو څخه وظیفه ورکول جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۵۲۱/۱) دنصاب خاوندانو بچیانو ته دزکات دروپو څخه وظیفه ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دنصاب خاوندانو بچیانو یعنی دغنیانو زامنو ته دزکات له روپو څخه وظیفه ورکول جائزنه دی ([4]). فقط

وروړته زکات ورکول جائزدي اوکه نه؟ سوال: (۵۲۲/۱) خپل کوچنی ورور ته زکات ورکول جائزدی اوکه نه؟ اودبلوغ څخه وروسته هم تردی چی خپله دګټی وتی سی، دزکات روپی

([1]). وحيلة التكفين بها التصدق على فقير ثم هو يكفن الثواب لهما وكذافى تعمير المسجد وتمامه فى حيل الاشباه (درمختار) قوله: (ثم هو) أي الفقير يكفن والظاهر له أن يخالف أمره لانه مقتضى صحة التمل قوله: (فيكون الثواب لهما) أي ثواب الزكاة للمزكي وثواب التكفين للفقير. وقد يقال: إن ثواب التكفين يثبت للمزكي أيضا، لان الدال على الخير كفاعله وإن اختلف الثواب كما وكيفا ط. قلت: وأخرج السيوطي في الجامع الصغير لو مرت الصدقة على يدي مائة لكان لهم من الاجر مثل أجر المبتدئ من غير أن ينقص من أجره شئ. (ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۱) . ظفير

([2]). ددی وجه څخه دخرڅولو څخه وروسته واجب التصدق دی لکه څه رکم چی دقربانی دڅاروی دڅرمنی قیمت واجب التصدق دی. ويتصدق بجلدها او يعمل منه نحو غربال وجراب ؒ او يبدله بما ينتفع به باقيا كما مر لا بمستهلك كخل ولحم ونحو كدارهم فان بيع اللحم اوالجلد به اى بمستهلك اوبدراهم تصدق بثمنه (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الاضحية ج ۵ ص ۳۸۷ ، ط. س. ج۶ ص ۳۲۸) . ظفير

([3]). وكره نقلها الا الى قرابته بل فى الظهيريه لاتقبل صدقة الرجل وقرابته محاويج حتٰى يبدأ بهم فيسد حاجتهم (درمختار) عن أبي هريرة مرفوعا إلى النبي (ﷺ) أنه قال: يا أمة محمد، والذي بعثني بالحق لا يقبل الله صدقة من رجل وله قرابة محتاجون إلى صلته ويصرفها إلى غيرهم ؒ والذي نفسي بيده لا ينظر الله إليه يوم القيامة والمراد بعدم القبول عدم الاثابة عليها وإن سقط بها الفرض، لان المقصود منها سد خلة المحتاج، وفي القريب جمع بين الصلة والصدقة (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۹۳ وص ۹۴، ط. س. ج۲ ص ۳۵۳). ظفير

([4]). ولايجوز دفعها الى ولدالغنى الصغير كذا فى التبيين (عالمگيرى مصرى باب المصارف ج۱ ص۱۷۷). ظفير

په ده باندی مصرفولی جائزدی اوکه نه؟

جواب: هغه غریب وروته چی دنصاب خاوند نه وی زکات ورکول جائزدی خوپه زکات کی یې مالك ګرځول ضروری دی لهذا که څوك دزکات روپی دورور په کار کی ولګوی هغه دی ددی مالك وګرځول سی مثلاً کله چی نغدی روپی دزکات په نیت ورکول کیږی اوکله ورباندی جامی ورته واخلی اوهغه ته دی ورکړی همدا راز نور خواراکی شیان اوپه نورو کی دی ولګوی اودبالغ کیدو څخه وروسته یې هم ترڅو چی نادار وی دزکات روپی ورته ورکول درست دی (١). فقط

محتاج بالغه شاګرد ته زکات ورکول اوپه تنخوا کی اخیستل څنګه دی؟ سوال: (٥٢٣) یوه مالداره دخپل ماشوم تنخواه معلم ته ورکړه اوځه پاته سول چی معلم ته یې نه دی ورکړی نو ډیر تاخیر پکښی وسو په دی حالت کی معلم ذکر سوی بالغ محتاج ته دزکات روپی ورکړی اودغه روپی بیا ورڅخه په تنخواه کی اخیستی سی اوکه نه؟

جواب: که دغه ماشوم شاګرد بالغ اومحتاج وی نومعلم ورته زکات ورکولی سی بیا دغه ماشوم که خوښه یې وی نومعلم ته دی په تنخواه کی ورکړی لیکن معلم ورباندی جبر نسی کولی دماشوم خوښه ده چی ورکوی یې اوکه نه یې ورکوی یې نو داکار صحیح دی (٢). فقط

دحیلی په ذریعه مدرسی ته زکات ورکول: **سوال**: (٥٢٤) په دی کلی کی یوه اسلامی مدرسه جوړه سویده، استاذانو ته تنخواه په چنده باندی ورکوی کلی ډیر کوچنی دی دلته متمول مسلمانان نسته دمدرسی قائمیدل ډیر مشکل دی مدرسی ته په واسطی باندی دتنخواه ورکولو معلمینو ته دزکات څخه که مالداره خلګ څه روپی ورکړی نو جائز دی اوکه نه دی؟ که یوسړی بل ددی په واسطه مقرر کړی چی دزکات روپی ورکړی نوشرعًا دغه مال اول دهغه سو وروسته دی بیا مدرسی ته ورکړی اوکه نه؟ که یوڅو کسان یوسړی ته زکات ورکړی نوهغه دنصاب مالك ګرځی مطلب داچی په زکات کی چی تملیك شرط دی هغه دزکات په مدرسه کی دورکولو په وجه پوره کیږی؟

جواب: په زکات کی چی دفقراء او دنورو تملیك ضروری دی (٣) دغه شرط هیڅکله او په

---

(١). ولا الی من بینهما ولاد (درمختار) قید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب کالاخوة والاعمام والاخوال الفقراء بل هم اولی لانه صلة وصدقة (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٢) . ظفیر

(٢). وحیلة التکفین ان یتصدق بها علی فقیر ثم هو یکفن فیکون الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفیر

(٣). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لااباحة ولایصرف الی بناء نحومسجد والی کفن میت (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٤). ظفیر

هیڅ صورت کی نسی ساقط کیدلی، دمدرسی غریبو طالب العلمانو ته زکات ورکول صحیح دی خودمعلمینو اودملازمانو ته په تنخواکی ورکول یایی په دی غرض دمدرسی مهتمم ته ورکول صحیح نه دی، (۱) اوکه یوسړی ته دومره زکات ورکول سی چی هغه دنصاب خاوند سی، بیاهغه ته زکات ورکول درست نه دی اوکه هغه دغه مال مصرف کی او دنصاب خاوند نسو نوبیا ده ته زکات ورکول اوده ته دزکات اخیستل درست دی.

دقربانی په څرمن باندی دیګ یا نور څه اخیستل جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۱\۵۲۵) دیوی محلی دخلګو دقربانی څرمنی جوړول جائزدی اوکه نه؟ (۲)

دجومات سائبان جوړول څنګه دی؟ سوال: (۲\۵۲۶) دجامع جومات دپاره سائبان په جمع جوړول جائزدی اوکه نه؟ یعنی دقربانی دڅرمنو په روپو؟

دغسل خانی په جوړولو کی لګول یې څنګه دی؟ سوال: (۳\۵۲۷) دغسل خانی یا دسقایا په جوړولو کی دقربانی دڅرمن قیمت لګول روا دی اوکه نه؟

دقربانی څرمنه پخپله په کار راوړل: سوال: (۴\۵۲۸) دقربانی څرمنه که پخپله مصرف کړی نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: ۱\: جائزنه دی بلکی دخرڅولوڅخه وروسته دی په غریبانانو خیرات کی. دقربانی دڅرمنی قیمت خیرات (صدقه) کول ضروری دی.

۲\: داهم جائزنه دی.

۳\: داهم درست نه دی.

۴\: دقربانی څرمن دخرڅولو څخه مخکی استعمالولی سی او داستعمال شیان ځینی جوړولی سی خو دخرڅولو څخه وروسته یې روپی په خپله په خپل استعمال کی نسی مصرفولی اونه وربانده داستعمال سامان اخیستی سی. قال فی الدر المختار فان بیع اللحم او الجلد به ای بمستهلك اوبدراهم تصدق بثمنه، ج۵ ص ۲۸۷، علی هامش رد المحتار کتاب الاضحیة.

په تنخواه کی یې ورکول: سوال: (۱\۵۲۹) دمهتمم دخوا څخه یې ملازمینو ته په تنخواه کی ورکول څنګه دی؟

مدرسینو ته یې اخیستل درست نه دی : سوال : (۲ \ ۵۳۰) که مدرسین په دی خبر وی چی

---

(۱). وحیلة التکفین ان یتصدق بها علی فقیر ثم هو یکفن فیکفن الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴). ظفیر

(۲). داسی چی په اتفاق یې خرڅ کړی اوبیا په هغه سره یو شی رانیسی ، چی دمحلې والاوو دپاره نفع وی لکه دیګ یا فرش یا بل داسی عمومی شی. ظفیر

مهتمم دوی ته تنخواه دقربانی دڅرمنو څخه ورکوی نودوی ته يې اخيستل جائزدی اوکه نه؟ پورتنی شرطونه اودغه ټول کارونه صحيح دی اوکه نه؟ اوقربانی جائزده اوکه نه؟
جواب: ١\: دمهتمم لخوا مدرسينو ته دقربانی دڅرمنو څخه تنخوا ورکول دحيلی او تمليك څخه ماسوا او بغير جائزنه دی.
٢\: که مدرسين خبروی نودغه تنخواه جائزنه دی.

په لاندې خپلوانوکی کم يو دزکات مصرف دی؟ **سوال**: (٥٣١\١) حقيقی خور او ورور، اکا، عمه، نيکه، خاله، ماما په دوی کی څوك زکات اخيستی سی اوڅوك يې نسی اخيستی؟

دقرضداری په معاف کولو سره زکات نه اداء کيږی: **سوال**: (٥٣٢\٢) يو چاته په دی نيت قرض ورکول چی که راپې کړی خو ورڅخه وابه يې اخلم اوکه نه نو نه، نودغه شخص قرضدار سو اوکه نه اوکه قرض ورکوونکی يوڅه روپې په دی نيت ورته معاف کړی چی په زکات کی وشماری نو آيا دا زکات اداء کيږی اوکه نه؟

ميره خپلی ښځی ته اوښځه خپل ميړه ته زکات نسی ورکولی: **سوال**: (٣\ ٥٣٣) ښځه خپل ميړه ته اوميړه خپلی ښځی ته زکات ورکولی سی اوکه نه؟
جواب: ١\: دانا، او نيکه څخه بغير يې نورو ذکر سوو ټولو ته ورکولی سی.
٢\: هغه شخص حتمًا قرضدار دی اوپه دی طريقه قرض نسی اداء کيدلی: او وهب دينه من فقير ونوٰی زکوٰة دين اخر له علی رجل اخر او نوی زکوٰة عين لم يجز کذا فی الکافی عالمگيری ج١ ص ١٢٩.
٣\: نه! ولا الی من بينهما ولادة ولو مملوکا الفقير اوبينهما زوجية (درمختار) علی هامش الشامی ج٢ ص ٨٢).

دعقيقی دڅرمنی قيمت سيدته ورکول څنګه دی؟ **سوال**: (......) ([1]) دعقيقی څرمن خرڅول او دهغه قيمت سيد ته ورکول جائزدی اوکه نه؟
جواب: دعقيقی څرمن خرڅول اوروپې يې سيدته ورکول جائزنه دی ([2]). فقط

اطلاع ضروری نه ده: **سوال**: (٥٣٤\) دقربانی شريکانو غوايې حلال کړی اوخپله خپله برخه يې واخيسته اوڅرمن يې يوه سړی ته پريښووله اوڅه يې ونه ويل هغه دغه څرمن يوه

([1]). په اصل کی دسوال نمبر مکرر راغلی وو ، ځکه نو موږ دلته بې نمبره وليکئ . حقانی
([2]). فی الشامی ج٥ ص ٢٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٢: لو اراد بعضهم (ای بعض شرکاء الاضحية) العقيقة عن ولد الی ان قال (فاذا قصدبها (ای العقيقة) الشکر اواقامة السنة فقد ابراد القربة الخ وفی جامع الرموز ج٣ ص ٤٥٨ فان بيع الجلد (ای جلد الاضحية) الی قوله (يتصدق بثمنه لان القربة انتقلت اليه الخ) چونکه عقيقه په قربت کی دقربانی په شان ده نوپه دی وجه دقربانی دقربت په وجه څرمن يې واجب التصدق دی ددی علت په بناء دعقيقی دڅرمنی قيمت واجب التصدق دی. ظفير

طالب علم ته ورکړه بيا يوه شريك خبر ورولېږی چی څرمن فلانی ته ورکړی اواوس دغه شريك دا اطلاع ورکړه چی دايوه طالب علم ته ورکړه دا اطلاع ضروری ده اوکه نه؟

جواب: دی اطلاع ته څه ضرورت نسته ځکه چی دده غوښتنه پوره سوی ده فقط، والله تعالی اعلم

صدقه فطر دکمو خلګو حق دی؟ سوال: (۵۳۵/) صدقه فطر دکمو کمو خلګو حق دی، بنی هاشموته ورکول کيدی سی اوکه نه؟ اوبنی هاشم يې دبنی هاشمو څخه اخيستی سی او که نه؟ اودبل دين سوال کوونکی ته دورکولو يې څه حکم دی؟

جواب: صدقه فطر محتاجو خلګو ته ورکول په کاردی، که مسلمان وی اوکه کافر اوکه ذمی لکه هندو، اوبنی هاشم ته صدقه فطر ورکول جائزنه دی، اونه يې بنی هاشم له بنی هاشمو څخه اخيستی سی، اودنورو دينونو سوالګری چی غير حربی وی ورکول جائز او صحيح دی. فقط

(قال فی الدر المختار وجاز دفع غيرها (ای الزكوٰة) وغير العشر والخراج اليه ای الذمي ولو واجباً كنذر وفطرة خلافاً للشافعي رحمه الله وفي الشامي قوله للثاني حيث قال: إن دفع سائر الصدقات الواجبة إليه لا يجوز اعتباراً بالزكاة، وصرح في الهداية وغيرها بأن هذا رواية عن الثاني، وظاهره أن قوله المشهور كقولهما. وايضا في الشامي تحت قوله : وبه يفتٰی ، قلت لكن كلام الهداية وغيرها يفيد ترجيح قولهما وعليه المتون. (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٢٩. ظفير)

دڅرمنی قيمت په مسجد باندی لګول درست نه دی: **سوال**: (۵۳۶/) زيد وايې چی دقربانی پوستکی په مسجد باندی لګول غواړی اوعمر وايې چی دقربانی پوستکی مؤذن يايو يتيم ته ورکول غواړی دلته تل دقربانی څرمن مؤذن ته ورکول کيږی، سږ کال بعضو خلګو څرمنی خرڅی کړی اوپه مسجد باندی يې دلګولو فکر وکی، اوس سوال دادی چی دا دچا حق دی؟

جواب: دقربانی څرمن مؤذن ته په دی فکر ورکول چی داذان اجرت دی اودجومات اجرت دی اويا يې دمسجد په تعميرولو لګول اويا په ضرورياتو باندی صحيح نه دی بلکی کله چی څرمن خرڅه سی نوصدقه کول يې لازم دی اوپه هغه ځای کی مصرفول يې واجب دی چی په صدقاتو واجبه وو ورته تاکل سويدی مصارف او تمليك کول يې ضروری دی او مؤذن ته يې داذان او دمسجد دخدمت په عوض کی ورکول جائزنه دی، که مؤذن غريب وی اودنصاب خاوندنه وی نودصدقی په توګه يې ورکول جائزدی خوپه دی شرط چی سيد

نه وی.
قال فی الدرالمختار لایصرف الی بناء نحو المسجد الخ قال فی الشامی قوله نحو مسجد کبناء القناطر والسقایات واصلاح الطرقات وکری الانهار، الی ان قال: وکل مالا تملیك فیه (ج۲ ص ۸۵ علی هامش ردالمحتار)
نوپه مسئوله صورت کی نه دزید قول صحیح دی اونه دعمر البته که په مسجدکی یې ضرورت وی نودقربانی دپوستکی دغه قیمت دی یو غریب ته چې سیدنه وی ورکړی او مالك دی وګرځوی بیایې دمسجد په ضرورت کی لګولی سی پرته له دی صحیح نه دی.
کتبه رشید احمد عفی عنه، الجواب صحیح بنده عزیز الرحمٰن عفی عنه
(که دمسجد په ترمیم اوتعمیر کی یې لګوی نودتملیك دحیلی څخه یې بغیر مصرفول درست نه دی. ان الحیلة ان یتصدق علی الفقیر ثم یامره بفعل هذه الاشیاء، شامی ج۲ ص ۸۲، وفی الدر المختار مصرف الزکوٰة والعشر قال الشامی هومصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذالك من الصدقات الواجبة شامی ج۲ ص ۷۹، وفی الدر المختار فی باب الاضحیة فان بیع اللحم والجلد به ای بمستهلك اوبدراهم لجلد تصدق بثمنه الخ. جمیل الرحمٰن)
دقربانی څرمن خرڅول اودمسکینانو په خوراک کی مصرفول څنګه دی؟ **سوال**: (۵۳۷/) که دقربانی والا دقربانی څرمن خرڅه کړی نو مسکینانو ته باندی ډوډی اوجامی ورکولی سی اوکه نه؟
جواب: جامیورباندی اخیستل اومسکینانو ته یې ورکول درست دی او ډوډی ورکول باندی هم صحیح دی خوپه دی شرط چې ددی ډوډی مالك یې وګرځوی . ودلیله ماقال فی الدر المختار فان بیع اللحم او الجلد به ای بمستهلك اوبدرهم تصدق بثمنه، درم ختار ج۵ ص **۲۸۷**، وایضا قال فی الجلد الثانی اذا رفع الیه المطعوم کما لو کساه بشرط ان یعقل القبض قال فی ردالمحتار تحت قوله بشرط ان یعقل القبض لان التملیك فی التبرعات یحصل الا به فهو جزء من مفهومه)
دطرابلس مصیبت زده خلکو ته دقربانی دڅرمنو لیږل څنګه دی؟ **سوال**: (۵۳۸/) دطرابلس الغرب مصیبت وهلو اوبازمانده ګانو ته، یتیمانو اوکونډو ته دمرستی په توګه دقربانی یا نور څه لیږل درست دی اوکه نه؟
جواب: څه رکم چې دقربانی قیمت دفقراوو تملیك کول واجب دی، ددی وجهی څخه بغیر دشرعی حیلی څخه یې له ذمی څخه نه ساقطیږی دلته یوڅوك مالك ګرځول په کاردی

هغه به دخپل طرف څخه هلته ولیږی نوبی له شکه به صحیح سی، البته که هغه خلګ چی هغوی ته یې روپی لیږلی دی هغه دی بیلی کنبیږدی او دزکات په مصرفولو کی دی مصرف کړی نوبیا دلته دهیڅ قسم تدبیر ضرورت نسته.

دقربانی دڅرمنی دقیمت څخه مسجد او عیدګاه او داسی نور تعمیرول صحیح دی اوکه نه؟

سوال: (۵۳۹/۱) څه ویلی دی فاضلو عالمانو اونامدارو اوکبارو عالمانو په دی باره کی چی دقربانی دڅرمنی روپی دی په مسجد، عیدګاه یامدرسه یاسکول اوداسی نور دخیر په کارونو کی مصرفول اودهغه څخه یې مدرسینو اواستاذانو ته تنخواه ورکول شرعًا جائزنه دی اوکه دی؟ دعدم جواز په تقدیر باندی حرام دی اوکه مکروه تحریمی دی اوکه نه تنزیهی؟ اوددی حکم دواجبه صدقاتو په شان دی اوکه نه دی اوکه یوڅوك یوداسی کار وکړی اوخلګ دیته ترغیب کړی نوپه هغه باندی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: دقربانی دڅرمنو قیمت دمدرسی، سکول، عیدګاه، اودمسجد دتعمیر دپاره او داسی نورو دمصرفولو دپاره صحیح نه دی اواستاذانو اومعلمینو ته ورڅخه تنخواه ورکول هم جائزنه دی بلکی حرام دی ځکه چی دقربانی دپوستکی خیرات واجب دی او دفقیر تملیك هم په دی کی دزکات په شان ضروری دی او دواجبو ترك کول حرام دی، په درمختار کی دی: فان بیع اللحم والجلد به ای بمستهلك اوبدارهم تصدق بثمنه الخ درمختار کتاب الاضحیة. (۱) وفی باب المصرف منه ومن الشامی باب المصرف ای مصرف الزکوٰة والعشر الی قوله هو فقیر الخ قال الشامی قوله ای مصرف الزکوٰة والعشر الخ وهومصرف ایضا لصدقة الفطر والکفاراة والنذر وغیر ذالك من الصدقات الواجبة کما فی القهستانی (۲). نومعلومه سوه چی دقربانی دڅرمنی قیمت اوصدقه فطر اونور صدقات واجبهٔ حکم په شان دزکوٰة دی چی په دی کی دفقراوو تملیك ضروری دی، او هغه سړی چی دې ته جائز وایی اونورو خلګو ته ددی ترغیب ورکوی هغه جاهل اوناخبره دی. فقط والله تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم. کتبه عزیز الرحمٰن مفتی مدرسه دارالعلوم دیوبند. ۱۸ ذی قعده سن ۱۳۳۰هـ

هلال احمرته چنده ورکول څنګه دی؟ **سوال**: (۵۴۰/۱) حامدًا ومصلیاً، عثمانیه سلطنت په نړۍ کی دمسلمانانو لوی سلطنت دی چی دحرمینو شریفینو دمحافظت په وجه دمسلمانانو دعالم دهمدردی لائق دی په دی وخت کی دغه سلطنت له یوه خونړی جنګ سره مخ سویدی چی پکښی دشهیدانو اودزخمیانو تعداد زیات سویدی پر ټولو مهذبو

(۱). ج۵ ص ۲۸۷، ط. س. ج۲ ص ۳۲۸. ظفیر

(۲). ج۲ ص ۷۹، ط. س. ج۲ ص ۳۲۸. ظفیر

سلطنتونو باندی دزخمیانو پتی اوملهم اودشهیدانو دپس مانده یتیمانو اوکونډو دامداد دپاره خیرات چندی ورکول انسانی فرض ګڼل کیږی، په مسلمانانو کی دقسطنطنیی څخه نیولی دهندوستان تروړو اولویو ښارونو پوری په کمو ځایونو کی چی ددی مقصد دپاره چی څومره انجمونونه روپی جمع کوی دی ټولو ته هلال احمر ویل کیږی دقسطنطنیی دهلال احمر مشر حسین حلمی باشا دهند دټولو مسلمانانو څخه دهلال احمر دپاره چنده غواړی په ۲۸ داکتوبر باندی چی هغوی په کلکته کی خبری کړیدی دهغه بعضی الفاظ دادی چی: موږ دهند دمسلمانانو دګرمی همدردی اودخیر خواهی مستحق یو ددی دپاره دخپلو بی شمیره زخمیانو دراحت دپاره په کم امداد یقین نه لرودعثمانیه سلطنت دوستانو اودانګلستان مسلمانانو موږته دځلورو شفاخانو دپاره سامان رالیږلی دی دهلال احمر انجمن هیله لری چی دهندوستان مسلمانان ورونه دی دشفاخانو داخراجاتو په پوره کولو کی مرسته اوکړی‌ون وکړی.

دطرابلس دجنګ په شروع کی هز ایکسلنسی وائسرائی ددی ټولو چندو لپاره رضامندی ښکاره کړیده په بمبئ کی په ۲۲ اکتوبر باندی په یوه غونډه کی دبمبئ پولیس کمشنر چی یوذمه دار شخص دی دهمدردی څرګندونه کړی ده اوپه غونډه کی شریك سوی وو، اودیرش روپی چنده یې ورکړه دی حالاتو ته په کتلو سره مسلمانان دشرعی حکم څخه خبرول په کاردی نوپه عمومی ډول دټولو علماوو څخه اوددیوبند دعلماوو څخه په خصوصی ډول هیله ده چی دلاندی مفصلو سوالونو جوابونه په شرحه اوصافه توګه ولیکی ترڅو ټول مسلمانان دخپل فرض اداء کولو طرف ته توجه وکړی.

\الف: هلال احمر ته دچندې ورکولو ذمه واری پر هر مسلمان څومره ده؟

\ب: زکات اونوری واجبی صدقی او دقربانی څرمنی یا دهغه قیمت هلال احمرته په څه طریقی سره ورکول سی؟

\ج: ټول مسکینان یامحتاجان یاعملی تحریکونه (که قومی مدرسی وی اوکه مذهبی) چی تراوسه پوری صدقات اونوری مختلفی چندی ورکول کیږی دهلال احمر په مقابل کی زیاتی مستحقی ګڼل کیږی اوکه نه؟

جواب : \ **الف** : هلال احمر ، یعنی داهل اسلام دزخمیانو او دهغوی کونډو اویتیمانو ماشومانو ته دمسلمانانو چنده ورکول اوخپل مال ورلیږل اودهغوی مرسته کول فرض دی دهغوی مدد که دمال څخه وی اوکه دزخمیانو ملهم پټی وی اویا دهغوی دخوراك او څښاك څخه ځان خبرول وی دا ټوله ضروری ده، په ډیرو معتبرو احادیثو کی چی صریح دی داخبری راغلی دی، په مشکوٰة شریف کتاب الجهاد کی راغلی دی چی: عن حزیم بن

فاتك قال: قال رسول الله ﷺ من انفق فی سبيل الله كتب له بسبع مائة ضعف رواه الترمذی (١). (وبالاختصار فی السند والمتن) من ارسل نفقة فی سبيل الله واقام فی بيته فله بكل درهم سبعمائة درهم. الحديث رواه ابن ماجه، مشكوٰة شريف كتاب الجهاد، فصل ٣ ص **٣٣٥**، ددغه روایاتو خلاصه داده چی كله دښمن دمسلمانانو سره جنګ ته موجود وی اوپه هغوی باندی ظلم كول غواړی نودټولو څخه ښه صدقه داده چی ددغو مسلمانانو چی هرډول مرسته كولی سی فرض ده، كه دهغوی دپاره خیمه دسایی لپاره وركړی اویا یې دخدمت دپاره كم خادم ورولیږی او دسپرلی څه شی ورولیږی، یا دیوه درهم په واسطه دهغوی مرسته وكړی اوهمدردی ورسره وكړی نوداوو سوو درهمو ثواب به ورته ورسیږی. دفرض كیدلو څخه مطلب دادی چی ترڅو پوری دتُركانو سره دهلال احمر په واسطه روپی پوره نسی نو ترهغه پوری فرضیت باقی دی اوباقی به وی. مثلاً كه دهند مسلمانان كافی روپی جمع كړی نودغه فرضیت به مخ ته نه چلیږی، اوكه داسی نه وی نوفرضیت پرټولو مسلمانانو كه په شرق كی وی اوكه په غرب كی وی عام دی اوس دهندوستان مسلمانان دی دا وګوری چی هلال احمر ته دمالی امداد ضرورت سته اوكه نه؟ كه حاجت یې نه وی نوبیا هلال احمر ته مالی امداد وركول فرض عین نه دی او كه مالی امداد یې وكی نو دمذكوره روایاتو مطابق یې لوی اجر اوثواب حاصل كی، او كه وی نه كړی نوګنهګار نه دی، اوكه هلال احمر مالی امداد ته ضرورت ولری نوكه یو مسلمان ته داخبر ورسیدی نوپه هغه باندی به فرض عین وګرځی چی دهغه مالی امداد وكړی اوپر ټولو مسلمانانو به فرض سی چی دهغه مالی مرسته وكړی، اوپه ټولو مسلمانانو به فرض سی چی دذكرسوو روایاتو مطابق كه مال وی اوكه دعا په هرركم چی ممكن وی دهغوی مرسته دی وكړی اوكه دمسئلی څخه خبروی نوهغه دی ناخبره خلګ له دی فرض عین كیدو څخه خبركړی اوكه نه نو ګنهګار به سی.

ب: دزكات دواجبو صدقاتو لكه صدقه فطر اودقربانی څرمنی اوداسی نورو دپاره دا ضروری ده چی یو څوك دی پكښی مالك وګرځول سی كه چا په داسی شكل سره دا مضمون مصرف كړی چی څوك یې پكښی مالك ونه ګرځوی نو دانه اداء كیږی لكه دمسجد تعمیرول یا دفقهی كتابونو اخیستل دطالبانو دپاره، ددی دپاره اسانه صورت

(١). وتمامه عن علی وابی الدرداء وابی هريرة وابی امامة وعبدالله بن عمر وجابر بن عبدالله وعمران بن حصين رضی الله عنهم اجمعين كلهم يحدث عن رسول الله ﷺ انه قال من ارسل نفقة في سبيل الله واقام فی بيته فله بكل درهم سبعمائة درهم ومن غزا في سبيل الله وانفق في وجهه ذلك فله بكل درهم سبعمائة الف درهم ثم تلا هذه الاية : والله يضاعف لمن يشاء . رواه ابن ماجه.

دادی چې دزکات اوذکر سوی صدقاتو څخه یو څوك حاجتمند مالك وګرځوی چې هغه یې بیا په خپله خوښه هلال احمرته په چنده کې ورکړي.
\ج: چنانچې په اکثرو اسلامي مدرسو کې دغه ډول زکات اوصدقات په داسې صورت سره مصرفوی اوپه سخت حالت کې دا افضل دی چې زکات اوصدقات په دی طریقې سره هلال احمر ته په چنده کې ورکړي. یصرف الی کلهم اوبعضهم تملیکا لا الی بناء مسجد وتکفین میت وقضاء دینه، تنویر بحواله درعن الشامی ج۲ ص ۵.
عام مسکینان اوعلمی سلسلې کې که هغه قومي وی اوکه دینی دهغو ټولو په مقابلو کې اوپه دغه سخت ضرورت اوحالت کې هلال احمر بې له شکه چې زیات مستحق دی، څه رکم چې دفقه او داحادیثو درو ایاتو څخه معلومه سویده ددی وجه څخه دهند مسلمانانو ته ضروری ده چې ترڅو پوری ضرورت باقي وی ترهغه وخته پوری دغه ذکر سوی صدقات دی هلال احمر ته له ټولو نورو څخه مقدم ورکړي لیکن که چیری یوداسې فوری سخت ضرورت پیداسو مثلاً لکه یوسړی دسترګو په وړاندی دلوږی څخه مړکیږی نو ددې صورت استثناء خوظاهره اوښکاره ده. فقط
والله تعالی اعلم (کتبه عزیز الرحمٰن مفتی دار العلوم دیوبند)
جواب عین ثواب دی او (ب) چې تملیك په کې شرط دی هغه دزیات اهتمام قابل دی، او داحقر دتملیك په معمول کې یوه خاصه طریقه ده چې دا راجحه ګڼل کیږی هغه داده چې:
﴿ اول یو مسکین دڅا څخه قرض واخلي، اوپه چنده کې دی ورکړي ، وروسته دی بیا صدقه کوونکی خپل رقم ده (مسکین) ته په حقیقي تملیك سره ورکړي ، بیا دی دغه مسکین ددغه رقم څخه خپل قرض اداء کړي. ﴾
نوپه دی طریقه به دحیلې دارتکاب څخه هم خلاص سی. (کتبه اشرف علی التهانوی. (رحمه الله))

دقرباني پریښوول اودقرباني روپۍ بلقاني مسلمانانو ته ورکول صحیح نه دی: سوال: (۱۵۴۱)
سږکال دی دقرباني ټولې پوره روپۍ خپلو بلقاني بې وسو ورونو ته دملهم او دپټۍ لپاره اودهغوی دکونډو اودیتیمانو دامداد لپاره ورولیږل سی اوپه دی حالت کې چې داسلام په دروازه باندی قیامت قائم سویدی قرباني ونه کړی، نو شرعًا ددی څه حکم دی؟
جواب: قرباني کول ضروری دی داپه ذکر سوی صورت کې نه اداء کیږی البته دادرست دی چې قرباني دی وسی اودڅرمنو قیمت دی هلته ولیږل سی او ددی اهتمام دی وسی، اودابه ښه وی چې پرکمو مسلمانانو قرباني واجب ده هغه دی خپل ټول نصاب هلته ولیږی چې دقرباني ذمه باندی پاته نسی که الله ﷻ مسلمانانو ته دا توفیق ورپه برخه

کړی نوددی څخه به بل څه ښه نه وی حاصل داچی دا درست نه دی چی دنصاب مالك دی وی اوقربانی دی ونه کړی. فقط والله اعلم

(لوتصدق بها حية فی ايام النحر لايجوز لان الاضحية الاراقة، الجوهر النيرة كتاب الاضحية ج٢ ص ٢٥٢) په عالمگیری کی دی (ومنها ان لايقوم غيرها مقامها فی الوقت حتٰی لوتصدق بعين الشاة اوقيمتها فی الوقت لايجزئه عن الاضحية ج٥ ص ٢٩٣، ددی وجه څخه چی یوواجب ترك کړی، او ددی قیمت په چنده کی ورکړی په هیڅ ډول صحیح نه دی. والله اعلم. ظفير)

پر مدیون باندی عشر سته اوکه نه؟ سوال: (٥۴٢) پر مدیون باندی عشر واجب دی اوکه نه؟ که بل څوك يې ورکړی نو آيادی يې داخيستو مستحق دی اوکه نه؟ اوپه مسجد کی دعشر مال لګول درست دی اوکه نه دی؟ اوپه اسلامی مدارسو کی يې ورکول جائزدی اوکه نه دی؟

جواب: په مديون باندی عشر واجب دی. كما فی الدرالمختار ويجب مع الدين الخ. اوکه بل څوك يې ده ته ورکړی نو ودی کتل سی، چی دقرض دورکولو څخه وروسته دی دنصاب مالك پاته سو اوکه نه؟ که دقرض دورکولو څخه وروسته دده سره دنصاب په اندازه مال پاته نه سو نو ورکول يې صحيح دی، اودمسجد په تعمير او په ترميم کی دعشر لګول صحيح نه دی مګر دحيلی دتمليك څخه وروسته جائزدی په دی طريقه يې بيا دمدرسی په تعمير اوترميم کی لګول درست نه دی، خ طالبانو ته يې ورکول جائزدی ځکه چی په دی کی تمليك شرط دی لکه په زکات کی چی دی. فقط

(قال فی العالمگيريه جلد نمبر١ وشرط ادائه ما مرّ فی الزكوٰة، وفي الجوهرة النيرة في بيان مصارف الزكاة لا تدفع الى غنيّ وفيها ولا يدفع الى بني هاشم وفيها ولا يدفع المزكي زكاته الى ابيه وجده وان علا ولا الى ولده وان سفل وفيها ولا يبني بها مسجد ولا يكفن بها ميت الخ ولا يبني بها السقايات ولا يحفر بها الآبار ولا يجوز الا ان يقبضها فقير لانها تمليك ولا بد فيها من القبض (الجوهرة النيرية ج١ ص ١٣١ – ١٣٢. ظفير)

اتم باب

صدقهٔ فطر

دصدقه فطر دمیده اودوریجو خومره اندازه ده؟ سوال: (٥۴٣) په صدقه فطر کی دمیده غنمو څخه خومره او دوریجو څخه خومره اندازه ده؟

جواب: که صدقه فطر دغنمو له میده څخه ورکوی نو نیم صاع ورکول په کار دی. کما فی

الدرالمختار، نصف صاع من بر اودقيقه الخ ([1]. والتفصيل فی الشامی. اوکه دوريجو څخه يې ورکوی نودومره ورکول په کاردی چی دنصف صاع دغنمو سره برابروی. ومالم ينص عليه كذرة وخبز يعتبر فيه القيمة الخ. درمختار ([2]. فقط

په عهد نبوی کی به سرسايه څه وخت ايستل کيده؟ سوال: (۵۴۴) درسول الله ﷺ په زمانه کی به صدقه فطر دلمانځه څخه مخکی ايستل کيده اوکه نه ترڅو ورځو پوری به جمعه کيده او وروسته بيا محتاجانو ته ورکول کيده، که په تقسيم کولوکی يې تاخير نه کوی. نه په يوه زمانه کی يوځای دسردار سره دصدقه فطر جمع کول ضروری دی اودسردار يا دنائبِ سردار چی کله خوښه وی تقسيموی يې دغه عمل څنګه دی؟

جواب: په درمختار کی دی چی: ويستحب اخراجها قبل الخروج الى المصلى بعد طلوع فجر الفطر عملا بامره وفعله ﷺ الخ ([3]) ددی حاصل دادی چی دصدقه فطر ادا کول دلمانځه څخه مخکی يې اداء کول مستحب دی دنبی کريم ﷺ دقول اودفعل موافق، لکه چی په مشکوٰة شريف کی دحضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم زكاة الفطر صاعا من تمر أو صاعا من شعير على العبد والحر والذكر والأنثى والصغير والكبير من المسلمين وأمر بها أن تؤدى قبل خروج الناس إلى الصلاة. (رواه البخاری ومسلم ([4]). ددی متفق عليه حديث په صراحت سره داثابته سوه چی نبی کريم ﷺ داختر دلمانځه دتللو څخه مخکی دصدقهٔ فطر داداء کولو حکم فرمايلی دی ([5]) نومعلومه سوه چی ددغه سردارانو چی کم عمل دی دسنت خلاف دی اوهيڅ اصل نه لری.

که ديو غريب پرذمه باندی څه بقايا وی نو آيا داپه صدقه فطر کی حسابيدلی سی؟ سوال: (۵۴۵) ديوسړی پرذمه باندی دبل څاقرض دی اومديون مفلس اونادار دی که دائن دهغه په قرض کی صدقه فطر ورمجراء کړی نوصدقه فطر اداء سوه اوکه نه؟

جواب : په دی شکل صدقه فطر نه اداء کيږی له وصولولو څخه بغير په قرض کی يې په

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج٢ ص ١٠٣، ط. س. ج٢ ص ٣٦٤. ظفير

([2]). ايضا ج٢ ص ١٠۴، ط. س. ج٢ ص ٣٦۴. ظفير

([3]). ايضا ج٢ ص ١٠٧. ظفير

([4]). مشكوٰة باب صدقة الفطر فصل اول ص ١٢٠. ظفير

([5]). اودصحابه کرامو رضي الله عنهم هم په دی باندی عمل وو. والاولى الاستدلال بحديث البخاري، وكانوا يعطون قبل الفطر بيوم أو يومين. قال في الفتح: وهذا مما لا يخفى على النبي (ﷺ)، بل لا بد من كونه بإذن سابق، فإن الاسقاط قبل الوجوب مما لا يعقل فلم يكونوا يقدموا عليه إلا بسمع اهـ (ردالمحتار باب صدقة الفطر ج٢ ص ١٠٢، ط. س. ج٢ ص ٣٦٧). ظفير

مجراء کولو صدقه فطر نه اداء کیږی، په دی صورت کی فقهاؤ داسی لیکلی دی چی اول دی صدقه فطرورکړی اوبیادی ورڅخه خپل قرض واخلی مګرورکول یې ضروری دی (۱).

داتیا تولو دسیر څخه دصاع اندازه څومره ده؟ سوال: (۵۴۶\) دنیم صاع وزن اتیا تولې دسیر دحساب څخه یو سیر او ۱۱چتانګه وی اوکه کم وی اوکه زیات؟

جواب: که صدقه فطر دغنمو څخه ورکوی نوبیا نیمایی صاع واجب ده (۲) اونیمایی صاع دانګریزی حساب او وزن چی یوسیر اتیا تولی دی پاو کم دوه سیره دی.

آیا دصدقه فطر مقدار نیم سیر غنم دی؟ سوال: (۵۴۷\) دصدقی فطر مقدار بغیر دنیم سیر نمبری څخه کم وی، همدا رکم په عمدة الرعاية کی دی، نو بیا دبعضو خلګو داخبره چی پاو کم دوه سیره ویل دکم کتاب څخه ثابت دی؟

جواب: صدقه فطر موافق دوزن دسبعه مثقال ۴ پوره اویوه څلورمه ماشی قرار ونیسی څنګه چی مشهور دی دانګریزی وزن څخه تقریبا پاو کم دوه سیره غنم کیږی اوحساب ددی څخه کیږی دا احوط دی (۳). فقط

مولانا عبدالحی ؒ او دصاع وزن: سوال: (۵۴۸\) مولانا عبدالحی ؒ چی دشرح وقایې محشی دی دزکات په باب کی یې لیکلی دی چی مثقال دری ماشی یوه رتۍ وی ددی حساب څخه دصاع وزن دوه سیره اودولس تولی اوشپږ ماشی وی اونیم صاع یو سیر اوپنځه تولی اونه ماشی کیږی، داخبره غلطه ده اوکه صحیح ده؟

جواب: دغه وزن چی مولانا صاحب مرحوم دمثقال لیکلی دی، دا ددرهم وزن دی اوپه دی کی دکسر رتی پرینبوول سویدی او وزن دمثقال ماشه وی لکه څنګه چی مشهوره ده او ددهلی علماوو هم دغه وزن شمارکړی دی. اوپه غیاث اللغات کی همدی ته صحیح ویل سویدی. مثقال بالکسر دیوه وزن نوم دی چی څلور نیمی ماشی کیږی الخ (ترجمه غیاث) نوپه دی بناء اوه سوه شل ۷۲۰ مثقال چی دصاع وزن دی په څلور نیمو ماشو کی ضرب

---

(۱). ویشترط ان یکون الصرف تملیکا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۴) وحيلة الجواز ان يعطى مديونه الفقير زكاته ثم ياخذها عن دينه ولو امتنع المديون مديده واخذها لكونه ظفر بجنس حقه (درمختار) قوله حيلة الجواز الخ ای فيما اذا كان له دين على معسر واراد ان يجعله زكوٰة الخ (ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۱). ظفير

(۲). نصف صاع فاعل يجب من بر او دقيقه او سويقه الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج۲ ص ۱۰۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۶۴). ظفير

(۳). هو ای الصاع المعتبر ما يسع الفا واربعين درهما من ماش وعدس انام قدر ربهما لتساويهما كيلا ووزن والتفصيل فی الشامی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج۲ ص ۱۰۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۶۵). ظفير

کیږی اودری زره دوه سوه څلویښت (۳۲۴۰) ماشی کیږی چی دهغه څخه تولی جوړوو نو (۲۷۰) تولی کیږی داپه (۸۰) باندی تقسیم کړه نودری ۳ سیره اویو نیم پاؤ ددغه صاع وزن کیږی دلته همدا معمول دی اوهمدا صحیح دی، اودوزن سبعه څخه هم حساب کیږی او دا ډول ایستل کیږی اوپه صدقه فطر کی هم احتیاط په دی کی دی.

صدقه په رمضان کی ورکول درست دی اوکه نه؟ سوال: (۵۴۹\۱) صدقه فطر درمضان المبارك په اوله عشره کی یا په مینځ یا په اخیر کی ورکول هم صحیح دی اوکه نه؟ او همداسی دمال دمالك زکات دکال په شروع او په مینځ کی هم او دکم شخص سره چی دقرض څخه زیات یا کم زیور یانغدی دنصاب په مقدار وی په داسی سړی باندی زکات فرض دی اوکه نه؟

جواب: په رمضان کی دصدقه فطر ورکول صحیح دی برابره خبره ده که څوك یې په هره عشره کی ورکوی ([1]). اودغه رکم په زکات کی هم دکال څخه مخکی ورکول یې جائزدی ([2])، اودچا سره چی دقرض څخه زیات زیور یانغدی اویانور دنصاب په اندازه موجودوی نوپه ده باندی زکات واجب دی اوکه دقرض دورکولو څخه وروسته دنصاب اندازه پاته نه سوه یعنی دقرض څخه زیات دنصاب اندازه موجوده نه وی نوبیاپه ده باندی زکات واجب نه دی ([3]). فقط

په صدقه فطر کی قیمت ورکول صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۵۵۰\۱) په صدقه فطر کی دغنمو په ځای قیمت او روپی ورکول جائز دی اوکه نه دی؟ بعض علماء داسی وایې چی دغنمو په ځای قیمت ورکول داسی دی لکه دقربانی په ځای روپی ورکول؟

جواب: په صدقه فطر کی دغلی په ځای یې قیمت ورکول بی له کراهته څخه جائزدی او ددی حکم دقربانی په شان نه دی ([4]). دقربانی په ځای داضحیه په ورځو کی دهغه قیمت

([1]). والمستحب ان یخرج الفطرة یوم الفطر قبل الخروج الی المصلی ؒ فان قدمها یوم الفطر جاز لانه ادی بعد تقرر السبب فاشبه التعجیل فی الزکاة ولا تفصیل بین مدة ومدة هو الصحیح (هدایه باب صدقة الفطر ج۱ ص ۱۹۳). ظفیر

([2]). وان قدم الزکوٰۃ علی الحول ومالك لنصاب جاز لانه ادی بعد سبب الوجوب فیجوز هدایه کتاب الزکوٰۃ فصل فی الخیل ج۱ ص ۱۷۲). ظفیر

([3]). ومن کان علیه دین یحیط بماله فلازکوٰۃ علیه الخ وان کان ماله اکثر من دینه زکی الفاضل اذا بلغ نصابا (هدایه کتاب الزکوٰۃ ج۱ ص ۱۲۸). ظفیر

([4]). دفع القیمة ای الدراهم افضل من دفع العین علی المذهب المفتی به، جوهره وبحر عن الظهیریة وهذا فی السعة اما فی الشدة فدفع العین افضل کما لایخفی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صدقة الفطرة ج۲ ص ۱۰۷ ، ط. س. ج۲ ص ۳۶۶). ظفیر

ورکول جائزنه دی (١). فقط

په صدقه فطر کی دکم ځای قیمت معتبردی؟ سوال: (١\٥٥١) امابعد: فان المصر بعيد من مكاننا واقع في مسافة اربعة عشر ميلاً وفي قريتنا سوق كبير يوجد فيه الاشيآء الضرورية المحتاجة اليها كثيرا بل بعض الاشيآء النادرة الغير الضرورية ايضا بقيمة فاحشة بالنسبة الى المصر ونحن نبيع ونشتري فيه دائماً الا احياناً نبتاع ونشترى من المصر ايضاً على سبيل الندرة ، والبر غير موجود في ذلك السوق موجود في المصر والدقيق موجود فيها لكن في السوق يباع بغبن وفي المصر برخص فهل يجوز لنا ان نخرج صدقة الفطر بقيمة المصر او نخرج البر الموجود في المصر ام لا ؟

جواب: يعتبر قيمة البر فى صدقة الفطر بقدر ما يكون فى بلد المعطى لا ما يكون فى المصر البعيد (٢). فقط

دمځکی په مالک باندی صدقه فطر واجب ده اوکه نه؟ سوال: (٢\٥٥٢) يو زميندار ه سړی دی چی دهغه سره دومره اندازه مځکه ده چی دهغه ځخه خرڅه څه کړی نوخپله قرضه وباندی اداء کولی سی، اوبیاهم دومره اندازه مځکه پاتیږی چی ایله بیله دده ګذاره وباندی روانیدلای سی، سړی عیال داره دی، نو آیاپه ده باندی صدقه فطر واجب ده اوکه نه؟

جواب: په ده باندی دصدقه فطر اودقربانی په باره کی اختلاف دی خو احتیاط دادی چی صدقه فطر دی اداء کړی اوقربانی دی وکړی اوکه ویې نه کړی نوګنهګار نه دی ځکه چی دمفتٰی به قول موافق په ده باندی سرسایه اوقربانی واجب نه ده. (٣)

که دچا سره ددوو سوو درهمو مځکه وی نوآیا په هغه باندی صدقه فطر واجب ده: سوال: (٣\٥٥٣) دیوه سړی سره خراجی مځکه ده چی پخپله یې کری اوقیمت یې ددوو سو درهمو ځخه زیات دی لیکن پیداوار یې دیوی میاشتی دخوراك ځخه زیات نه دی، نوپر

---

(١). ومنها انه لايقوم غيرها مقامها فى الوقت حتٰى لوتصدق بعين الشاة اوقيمتها فى الوقت لايجزئه عن الاحية (عالمگيرى كتاب الاضحية ج٥ ص ٢٩٣). ظفير

(٢). وجاز دفع القيمة فى زكاة وعشر وخراج وفطرة الخ وتعتبر يوم الوجوب الخ ويقوم فى البلد الذي المال فيه الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب زكاة الغنم ج٢ ص ٢٩ - ٣٠ ، ط. س. ج٢ ص ٢٨٥). ظفير

(٣). سئل محمد عمن له أرض يزرعها أو حانوت يستغلها أو دار غلتها ثلاثة آلاف ولا تكفي لنفقته ونفقة عياله سنة يحل له أخذ الزكاة وإن كانت قيمتها تبلغ ألوفا، وعليه الفتوى، وعندهما لا يحل اھ (ردالمحتار ج٢ ص ٨٨ ج٢ ص ٣٤٨) على كل حر مسلم الخ ذى نصاب فاضل عن حاجة الاصلية كدينة وحوائج عياله وان لم ينم وبه اى بهذا النصاب تحرم الصدقة وتجب الاضحية (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج٢ ص ٩٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٩ و ٣٦٠). ظفير

ده باندی سرسایه او قربانی واجب ده اوکه نه؟ اودغه مځکه په حاجت اصلیه کی داخله ده اوکه نه؟

جواب: پرده باندی صدقه فطر اوقربانی واجب نه ده دامام محمد رحمه الله دقول مطابق او همدا رکم شامی هم ویلی دی چی فتوٰی پردی باندی ده او هغه مځکه چی زراعت کوی یې او ددی مځکی آمدنی دهغه دپاره کافی نه ده، په حاجت اصلی کی داخله ده. وفیها سئل رحمه الله عمن له ارض یزرعها وحانوت یستغلها اودار غلتها ثلثة الاف ولا تکفی لنفقة عیاله سنة یحل له اخذ الزکوٰة وان کانت قیمتها تبلغ الوفًا وعلیه الفتوٰی وعندهما لایحل ([1]). شامی.

دتقسیم څخه وروسته که دنصاب خاوند نوپه ده باندی سرسایه واجب نه ده: **سوال**: (٥٥٤\١) دځلورو ورونو شریك مال دی که تقسیم نه سی نودهیچا برخه دنصاب په اندازه نه ده، نو قربانی واجب ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی که دیو ورور برخه نصاب ته ونه رسیږی نوپر یوه باندی قربانی او سرسایه واجب نه ده ([2]). فقط

دبل ښار پرنرخ باندی سرسایې ته اعتبار نسته: **سوال**: (٥٥٥\١) که څوك دخپل وطن دغنمو نرخ پریږدی اودبل وطن دغنمو دقیمت مطابق یې ورکول غواړی نوڅه اعتبار اوښه والی لری اوکه نه؟

په غنمو او دهغه په ستو او اوړو کی څه فرق سته اوکه نه: **سوال**: (٥٥٦\٢) په گیهون او اوړو او ستو باندی په سرسایه ورکولو کی څه فرق سته اوکه نه؟

دمثقال، دینار، اوددرهم وزن څه شی دی؟ **سوال**: (٥٥٧\١) دمثقال او ددینار اوددرهم وزن څه شی دی؟

جواب: ١\ : دخپل وطن قیمت اعتبار لری دبل وطن یادښار قیمت اعتبار نه لری ([3]).

٢\ : دگیهون اودگیهون اوړه هم نیمه پیمانه ورکول په کاردی اویا دی ددغه قیمت ورکړی ([4]).

([1]). ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٨. ظفیر

([2]). تجب الخ علی کل حر مسلم الخ ذی نصاب فاضل عن حاجته الاصلیة الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب صدقة الفطر ج٢ ص ٩٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٩ و ٣٦٠). ظفیر

([3]). ویقوم فی البلد الذی المال فیه ولو فی مفازة ففی اقرب الامصار الیه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة الغنم ج٢ ص ٣٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٦). ظفیر

([4]). نصف صاع من بر او دقیقه اوسویقه اوزبیب الخ اوصاع تمر اوشعیر ولو ردیئا وما لم یبض علیه کذرة وخبز یعتبر فیه القیمة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج٢ ص١٠٣ - ١٠٤ ، ط. س. ج٢ ص٣٦). ظ

٣١: مثقال اودینار څلور نیمی ماشی اودرهم دری ماشی اویوه پنځمه ارتی ده، یوه ماشه اته ٨ ارتی سرې وی (١).

که دچا پرذمه باندی روپی باقی پاته اوپه سرسایه کی یې ورته پریږدی نو سرسایه ادا کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (١٥٥٨) دزید سره زما روپی دی اوهغه یې نه سی راکولی نوکه داخبره ورته وکړمه چی ستا سره چی زما کمی روپی دی اوته یې نسی راکولی هغه په صدقه فطر کی حساب کړه داکار صحیح دی که نه؟

جواب: په دی طریقه صدقه فطر نه اداء کیږی څه رکم چی زکات هم په دی ډول نه اداء کیږی په دی باره کی فقهاوو داسی لیکلی دی چی ده ته دی اول سرسایه یازکات ورکول سی بیادی ځینی خپل قرض وصول سی (٢).

لاندی مسائل درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (١٥٥٩) یومولوی صاحب یوکتاب تالیف کړی او ددغه کتاب مصنف پوخ حنفی اوسنی دی، هغه دسرسایې په باره کی په خپل کتاب کی لیکلی دی چی سرسایه دخپل طرف څخه اداء کړی او دخپل غلام دخوا څخه یې هم اداء کړی اودخپل کوچنی بچی دخوا څخه یې هم اداء کړی که څه هم غنی نه وی او دخپلی ښځی او دزوی اولور دطرف څخه دسرسایې ورکول جائزنه دی، که هغه دنصاب خاوند وی نوپخپله دی ورکړی، آیا دغه مسئله صحیح اوعبارت یې درست دی اوکه نه؟

جواب: مسئله داسی ده چی دښځی دطرف څخه اودلوی اوبالغه زوی دطرف څخه پرده باندی دسرسایې ذمه واری نسته خوکه وریې کړی نوصحیح کیږی ځکه چی هغه یې هم په عیال کی راځی یعنی صدقه فطر اداء کیږی نوپه ذکر سوی کتاب کی دروا نه دی په ځای داسی لیکل په کار وو چی واجب نه دی لکه څه رکم چی په درمختار اوپه شامی کی دی: لاعن زوجته وولده الکبیر العاقل ولو ادی عنهما بلا اذن اجزا استحسانا للاذن عادة ای ولو فی عیاله الخ (٣). په درمختار اوشامی کی په تصریح سره ذکر کړیدی چی: لایجب علیه (٤). وفیه ایضا قال فی البحر وظاهر الظهیریة انه لوادی عمن فی عیاله بغیر امره جاز مطلقا بغیر تقیید بالزوجة والولد الخ (٥). ج٢ ص ٧٥، شامی. فقط

---

(١). والدینار عشرون قیراط الخ والمثقال مائة شعیرة فهو درهم وثلاث اسباع درهم (ایضا باب زکوٰة المال ج٢ ٣٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٥ - ٢٩٦). ظفیر

(٢). واداء الدین عن العین وعین دین سیقبض لا یجوز وحیلة الجواز ان یعطي مدیونه الفقیر زکاته ثم یاخذها عن دینه ولو امتنع المدیون مدیده واخذها لکون ظفر بجنس حقه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکاة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧١). ظفیر

(٣). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج٢ ص ١٠٢ - ١٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٦٣. ظفیر

(٤). ردالمحتار باب صدقة الفطر تحت قوله لاعن زوجة ج٢ ص ١٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٦٣. ظفیر

که ځوان خپله ګټه خپل پلار ته ورکوي پرهغه باندې سرسایه واجب ده اوکه نه؟ سوال: (٥٢٠\١) دیوسړي دوه زامن دي او ددواړو په کال کې دوه دري سوه روپې ګټي اوخپل پلار ته يې ورکوي اودکور مالك يې پلاردي او ددوی سره ددې ځخه بغير يوه حبه هم نسته اوددې دواړو واړه واړه بچي دي نوپه دې حالت کې په دې دواړو باندې سرسایه او زکات اوقرباني واجب ده اوکه نه؟ یا ددوی دخوا ځخه ددوی په پلار باندې واجب ده؟

جواب: په دوی باندې زکات صدقه فطر اوقرباني واجب ده (١). فقط

صدقه فطر په انګریزي حساب سیر ده: سوال: (٥٢١\١) دصدقه فطر وزن په انګریزي حساب سیر څومره کیږي؟ دشرح الوقایه په حاشیه کې دوه سوه اودو پنځوس ٢٥٢ تولې پیمانه لیکل سویده داصحیح دي اوکه نه؟

څلوېښت روپې دسیر ځخه ماسوا دري سیره غنم که ورکړي نوسرسایه اداء کیږي اوکه نه؟

سوال: (٥٢٢\١٢) زموږ سره دلته دڅلوېښتو روپو وزن سیروی که په صدقه فطرکې سَوا باندې دري سیره غنم اداء سي نوآیا اداء کیږي اوکه نه؟ که اداء نه سي نوڅومره کمې دي دادي پوره کړي اوکه نه دادي دوباره اداء کړي

په وریجو او داسي نورو کي سرسایه څومره ده؟ سوال: (٥٢٣\١٣) وریجې، جواري، باجرې، په سرسایه کې دي نیمه پیمانه ورکړي که پوره؟

جواب: ٢\١١ : موږ چې دمثاقیلو په حساب سره پیمانه حساب کړه نودوه سوه اویا ٢٧٠ تولې یوه صاع ده بلکې ددراهمو په حساب سره دري تولې اوځه زیات وي یعني دوه سوه دري اویا ٢٧٣ تولې یوه صاع ده نوپه انګریزي حساب سره یوصاع برابره ده ددري سیره اویو نیم پاو سره اونیم چیټانګ دي. نواحتیاطاً دي داوربشو اودخرما ځخه په انګریزي وزن دري نیم سیره سرسایه ورکړي، اودغنمو ځخه دي پاو باندې دوه سیره په انګریزي وزن سرسایه ورکړي اوکه سیر څلوېښت روپې وي نودري نیم سیره غنم دي دغه سرسایه به ورکړي چې دیرش٣٠ تولو ته نژدې وي، اوکه ددې ځخه کم وي نو بیا هم صحیح ده خو دکمې په صورت کې دي هغه کمې پوره کړي، همدا کافي دي.

٣\١ : که وریجې، جوار، یاباجرې په صدقۀ فطر کې ورکړي نودومره دي ورکړي چې قیمت يې دپاؤباندې‌دوه سیره غنم دقیمت سره برابرسي ځکه چې په غیرمنصوص کې دمنصوص

---

(٥). ایضا ص ١٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٣. ظفیر

(١). تجب الخ علی کل مسلم الخ ذی نصاب فاضل عن حاجته الاصلیة الخ وبه تحرم الصدقة وتجب الاضحیة ونفقة المحارم (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج٢ ص ٩٩ ، ط. س. ج٢ ص ٢٥٩ و ٢٢٠). ظفیر

قیمت پوره کول ضروری دی کذافی الدرالمختار ([1]) .

پورټ بلیر په کم ځای کی چی دبندیانو ابادی اومرسته ورکول قانونا منع دی نوایا سرسایه ورکول ورته جائز دی؟ **سوال**: (١٣٢٥) زه په پورټ بلیر کی یم چیری چی دهندوستان څخه مجرمان دزندان په عبور ددریاب باندی راوړل کیږی دقانون دمخی ددغو بندیانو سره هرقسم کومك بند دی ، نو صدقه فطر دوی ته ورکولی سو؟

هلته دبندیانو بغیر بل هیڅوک نسته نوصدقه به څنګه اداء سی؟ **سوال**: (٥٧٥\٢) دلته دبندیانو څخه ماسوا بل څوك مسکین نسته نو سرسایه به څه ډول اداء سی؟

جواب: ١١\٢: دوی ته دسرسایې ورکول جائزدی ([2]). فقط

آیا بندیان په مسکینانو کی شمیرل کیږی؟ **سوال**: (٥٢٦\) آیا بندیان په مسکینانو کی شمیرل کیږی؟

جواب: که دنصاب په اندازه مال ورسره نه وی نوهغه مسکینان دی اوسرسایه ورکول ورته صحیح دی ([3]).

صدقه فطر پرکمو خلکو واجب ده؟ **سوال**: (٥٢٧\) زیدوایې چی صدقه فطر په هرمسلمان، عاقل، بالغ اودهغه په وړو اولادونو باندی دده په ذمه واجب ده عمر وایې چی صدقه فطر دهغو خلګو ذمه ده چی روژه نیسی اوعاقل اوبالغ وی.

جواب: دزید قول صحیح دی اودعمر قول غلط دی مسئله همداسی ده لکه چی زید یې وایې صدقه فطر په هرمسلمان عاقل بالغ باندی دخپل طرف څخه اودوړو اولادونو دطرف څخه واجب ده ([4]). فقط

آیا دغنمو پرځای په بنګال کی وریجی اوداسی نور په سرسایه کی ورکولی سی؟ **سوال**: (٥٢٦\) په بنګال کی بعضو علمآوو فتوىٰ ورکړیده چی په عربو کی غنم، وربشی، انګور، خرما دی دهغه په واسطه یې په سرسایه کی ددې شیانو حکم ورکړیدی، زموږ

([1]). ومالم ینص فی کذرة وخبز یعتبر فیه القیمة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج٢ ص ١٠٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٦٤). ظفیر

([2]). قوله مصرف الزکوة الخ وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر الخ هوفقیر وهو من له ادنی شیئ ای دون نصاب الخ والمسکین من لاشیئ له الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ - ٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفیر

([3]). فقیر وهو من له ادنی شیئ ای دون نصاب اوقدر نصاب غیر تام مستغرق فی الحاجة (ایضا) ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩. ظفیر

([4]). یخرج ذالك عن نفسه لحدیث ابن عمر رضی الله عنهما قال فرض رسول الله ﷺ زکوة الفطر علی الذکر والانثی الحدیث، ویخرج عن اولاده الصغار الخ ومممالیکه (هدایه باب صدقة الفطر ج١ ص ١٩٠). ظفیر

خلګو ته دلته، دهان (يوقسم وريجي) ، وريجي دغنمو په ځاى دى، لهذا ديو صاع دهان او يا نيم صاع وريجي وركولو څخه ياپې دقيمت په وركولو سره سايه اداء كيږى داجائز دى اوكه ناجائز؟

جواب: حنفي فقهاوو داتصريح كړيده چې دمنصوص څخه ماسوا له نورو اجناسو څخه صدقه فطر ادا سى نوقيمت دمنصوص په اندازه برابرول ضرورى دى مثلاً دهان يا وريجى كه وركړې نودومره دى وركړى چې قيمت يې دنيم صاع دغنمو وى اويا ديو صاع دوربشو دقيمت سره برابر وى. فهو الاحوط، كذا في الدر المختار. ([1])

سرسايه دنصاب پرخاوند واجب ده: **سوال**: (١٢٧) صدقه فطر پرهر روژه نيوونكى باندى واجب ده اوكه نه يوازى پراهل زكات باندى؟

جواب: يوازى پراهل نصاب باندى صدقه فطر واجب ده وركول يې، ليكن دصدقه فطر او دزكات په نصاب كى فرق دى، يعنى دصدقه فطر په نصاب كى دمال نامى كيدل شرط نه دى ([2]).

چې دكلني خوراک يا دوه بيګه مځکه وى نو سرسايه واجب ده اوكه نه؟ **سوال**: (١١\٥٢٨) دصدقة الفطر په ورځ زمونږ سره ديوه كال خوراك چې قيمت يې سل روپى دى موجود دى ياخو زمونږ سره دوه بيګه مځكه ده چې قيمت يې سل روپى دى نوپه دى كى صدقه فطر واجب ده اوكه څنګه؟

دشيدو دپاره چې غواده ايا داپه اصلي حوائجو كي داخله ده اوكه نه؟ **سوال**: (١٢\ ٥٢٩) دشيدو دپاره چې چا غوا ساتلى وى نودا دحوائجو اصليه وو څخه اضافى ده اوكه نه؟

په صدقه فطركي دحوائجو اصليه وو څخه څه شي مراد دي؟ **سوال**: (١٣\٥٧٠) په صدقه فطر كى چې فاضلا عن حوائجه الاصلية قيد دى ددغه څخه هغه حوائج اصليه مراد دى كم چې دزكات په وجوب كى دى اوكه نه بل يو ډول دى؟

دبالغه هلک دخوا څخه صدقه فطر وركول واجب نه دي: **سوال**: (١٤\٥٧١) دبالغه هلك چې ورسره خوراك كوى دده دطرف څخه صدقه فطر وركول واجب دى اوكه نه؟

جواب: ١\ : دغه غله په حوائجو اصليه ؤكى ده نوددغه وجه څخه صدقه فطروركول واجب نه دى اونوره مځكه چې قيمت يې سل روپى دى ددى وجه څخه صدقه فطر واجب ([3]) ده.

([1]). نصف صاع فاعل يجب من بر اودقيقه اوسويقه اوزبيب الخ اوصاع تمر اوشعير ولو رديئا وما لم ينص عليه كذرة وخبز يعتبر فيه القيمة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج٢ ص١٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٦٤). ظ

([2]). تجب موسعا في العمر عند اصحابنا وهو الصحيح ۞ وقيل مضيقاً في يوم الفطر عينا ببعده يكون قضاء على كل مسلم ۞ ذوى نصاب فاضل عن حاجته الاصلية ۞ وان لم ينو (ايضا صدقة الفطر ج٢ ص٩٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٨). ظ

۲\ : دا دحوائجو اصليه وو څخه ده.
۳\ : هم هغه حوائج اصليه مراد دي.
۴\ : دبالغه اولاد دخوا څخه صدقه فطر ورکول واجب نه دی (۱).

دصاع څخه بغدادي صاع مراد ده اوکه مدني؟ سوال: (۵۷۲\۱\) په حنفي مذهب باندی صدقه فطر دبغدادی صاع په حساب باندی ورکول کيږی اوکه په مدنی صاع باندی او ددواړو صاعو وزن څه دی؟

په سرسايه کی دغنمو څومره مقدار ورکړی؟ سوال: (۵۷۳\۲\) په مفتی به قول باندی په څومره اندازه باندی صدقه فطر ورکول په کاردی يومولوی يوسل پنځه څلويښت ۱۴۵ تولی ښوولی دی، اويوبل عالم دوو نيوی ۹۲ نيمی تولی ښوولی دی په دی کی دچا قول معتبر دی اومفتی به دی؟

جواب: \۱. ۲: په شامی کی يې ليکلی دی چی دطرفينو او دامام ابی يوسف رحمه الله اختلاف لفظی دی اوددواړو نتيجه يوه ده اوما چی دصاع حساب اودنيم صاع حساب کړيدی نونيم صاع په انگريزی وزن سير چی اتيا تولی ويل سويدی ۱۳۵، تولی دی چی نژدی پاو کم دوه سيره په انگريزی حساب اووزن سره دی نوپه صدقه فطر کی پاو کم دوه سيره غنم يا دهغه قيمت احتياطاً ورکول په کاردی. قيل لا خلاف لان الثاني قدره برطل المدينة لانه ثلاثون استاراً والعراقي عشرون، وإذا قابلت ثمانيةً بالعراقي بخمسة وثلث بالمديني وجدتهما سواء، وهذا هو الاشبه لان محمدا لم يذكر خلاف أبي يوسف، ولو كان لذكره لانه أعرف بمذهبه (۲) الخ، وفی الشامی ايضا اعلم ان الصاع اربعة امداد والمد رطلان والرطل نصف من والمن بالدارهم مائتان وستون درهماً وبالاستار اربعون والاستار بالدراهم ستة ونصف الخ (۳). يو استار۴ نيم مثقاله دی او يو مثقال ۴ نيمی تولې. نوڅلويښت استاره مساوی دی د۲۷ نيم سره دايو من اويو مد دی اومن اومد برابردی نودوه مده يعنی نيم صاع مساوی دی د (۱۳۵) تولو سره.

---

(۳). تجب (صدقة الفطر) على كل حرمسلم الخ ذی نصاب فاضل عن حاجته الاصلية كدينه وحوائج عياله وان لم ينو ﷺ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج۲ ص ۹۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۵۹ و ۲۷۰). ظفير
(۱). لاعن زوجته وولده الكبير العاقل ولو ادى عنهما بلااذن اجزا استحسانا (ايضا ج۲ ص ۱۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۶۳). ظفير
(۲). ردالمحتار باب صدقة الفطر ج۲ ص ۱۰۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۶۵. ظفير
(۳). ردالمحتار باب صدقة الفطر مطلب فی تحرير صاع المد والمن والرطل ج۲ ص ۱۰۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۶۵. ظفير

دنیم صاع مقدار ۸۲ تولی دسیر څخه کیږي: سوال: (۵۷۴) دنیم صاع مقدار ۸۲ تولی دسیر څخه څومره او اتیا تولی دسیر څخه څومره وی که دمن دبیې څخه دنیم صاع قیمت وایستل سی نومثلاً دنیم صاع قیمت ۲۰ کیږی اوکه نیم صاع دبازار څخه واخلی نو هیڅکله به ورته په شپږ آنی پیدا نه سی بلکی یابه ورته په اوه آنی یا شپږ نیمی آنی ورکول سی نودکم حساب څخه قیمت ورکړی؟

جواب: انګریزی سیر یعنی د (۸۰) تولی وزن څخه یوصاع سوا باندی دری سیره اونیم پاو اونیم چهټانګ وی اونیم صاع پاو باندی دوه سیره ته نژدی وی، ددوو اتیا تولی څخه دسیر ددی حساب دی ولګول سی نژدی دیو چهټانګ څخه کم وی خو احتیاط دادی چی دپاو کم دوه سیره قیمت دی ولګول سی څکه چی که لږ زیات سی نوښه به وی نوکه قیمت دپاو کم دوه سیره غنم په دغه وخت کی په بازار کی وی هغه دی ورکړی او دفقیر دګټی خیال دی وساتی.

په کم ځای کی چی غنم پیدا نه سی نوپه دغه ځای کی به دکم ځای قیمت معتبروی؟ سوال: (۵۷۵) په کم ځای کی چی وړه پیدانه سی نودلته به صدقه فطر دوړو دحساب څخه ورکول کیږی اوکه نه؟ اودوړو قیمت دکم وطن معتبر دی؟

جواب: په کم ځای کی چی اوړه پیدانه سی مثلا وریجی پیدا کیږی نوهلته دی دومره وریجی په صدقه فطر کی ورکړی چی قیمت یې دنیم صاع دغنمو برابر وی اوقیمت به دهمدی ملك او دهمدی ښار معتبروی په کم ښار کی چی صدقه فطر ورکوی [1]. فقط

په کم ځای کی چی فقیران نه وی نوهلته صدقه فطر څه وخت ورکول سی؟ سوال: (۵۷۶) په کم ملك کی چی شرعی فقراء نه وی نوددغه ځای خلګ دی صدقة الفطر داختر په ورځ دلمانځه څخه مخکی اداء کړی او جلا دی کړی، یادی یو اعتمادی شخص ته ورکړی یادی هغه ملك ته ولیږی چی هلته فقیران وی، نو آیا مستحب اداء سول اوکه نه؟

جواب: صدقه فطر مخکی له دی څخه چی داختر لمونځ اداء کړی فقیرانو ته ورکول مستحب دی، نوپه دی صورت کی چی صدقه فطر جلا کړی اوفقیرانو ته یې ورنه کړی نو مستحب نه اداء کیږی اودا عادةً نه سی محقق کیدلی چی په کم ملك کی دی فقراء نه وی، اوکه بالفرض نه وی نوبیا دبل ځای فقیرانو ته لیږل په کاردی اودعذر دوجه څخه دې ته تارك المستحب نه ویل کیږی [2].

---

(۱). وماسواه من الحبوب لا یجوز الا بالقیمة (عالمگیری مصری کتاب الزکاة باب ثامن ج۱ ص ۱۷۹، ط ماجدیه ج۱ ص۱۹۲) ویقوم في البلد الذي المال فیه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب زکاة الغنم ج۲ ص ۳۱ ، ط. س. ج۲ ص۲۸۲) . ظفیر [باقی]

که دومره حاصل ولري چي ټول کال يې نه بس کيږي پر ده باندي صدقه فطر سته اوکه نه؟

سوال: (١٥٧٧) يو سړي دی چي دسرو او دسپينو زرو دنصاب خاوند نه دی ليکن دده سره يوه اندازه مځکه ده چي قيمت يې دو پنځوس روپی دی نودهغه څخه چي کمی غلی او ميوی راځی نودنيم کال يا دزيات دکال کيږي، نوپه دغه کی صدقه فطر ورکول سته (او که نه؟) اودهغه خوړل حرام دی اوکه نه؟

جواب: په مفتی به اوصحيح رواياتو سره صدقه فطر پرهغه سړی واجب نه ده اودی په خپله دزکات اوصدقات مصرف اومحل دی کذا فی الشامی. وفيها سئل محمد رحمه الله عمن له ارض يزرعها اوحانوت يستغلها اودار غلتها ثلاثة الاف ولا تكفی لنفقته ونفقة عياله سنة يحل له اخذ الزكوٰة الخ (١)، ص ٦٥ جلد نمبر ٣ شامی. فقط

دلاندي ليکل سوی صورت تحقيق: **سوال**: (١٥٧٨) شامی دريم جلد ص (٧١) ددُرّ مختار تردی قول لاندی: (فافرغ عن حاجته) وفيها سئل محمد رحمه الله عمن له ارض يزرعها اوحانوت يستغلها اودار غلتها ثلاثة الاف ولا تكفی لنفقته ونفقة عياله سنة يحل له اخذ الزكوٰة وان كانت قيمتها تبلغ الوفا عليه الفتوٰی وعندهما لا يحل (٢) که عليه الفتوٰی صحيح وی نوتاسی مخکی (په سوال ٥٢٨ نمبرکی) وليکل چی دچا مځکه وی او قيمت يې سل روپی وی نوصدقه فطرورباندی لازم ده، ددی څه جواب دی؟

جواب: دشيخينو دقول مطابق دصدقه فطر وجوب مخکی ليکل سويدی هغه هم صحيح دی اوکه دامام محمد رحمه الله قول مفتی به واخيستل سی نودا هم درست دی.

ديوه اشکال جواب: **سوال**: (١٥٧٩) داسلام دسلام سنت دمخکی کولو څخه وروسته: کله چی دمسئوله مسئلو جوابونه چی په خپل وخت راورسيدل اوموږ ته يې سرفرازی او امتنان وبخښی، ليکن دسپينو زرو دزکات په باره کی اوس هم خدشه پاته ده او وجه يې داده چی حضرت مولانا عبدالحی لکهنوی مرحوم رحمه الله په عمدة الرعايه کی ليکلی دی: مقدار ددې (دوه سوه درهمه) ٣٢ ديرش تولې اوپنځه ٥ نيمی ماشی دی، او دانګريزی سکه دڅهره دارو روپو په حساب تخمينًا اواحتياطا نه ديرش ٣٩ روپی دی. ددی عبارت څخه دلته دوې خدشی پيدادی يوه دا چی تاسی ٥٢ نيمی تولی ښياست او مولانا مرحوم ٣٢ تولی اوپنځه ٥ نيمی ماشی ښوولی دی، ددی معارضی دفع کول ددی

= (١). والمستحب للناس ان يخرجوا الفطرة بعدطلوع الفجر يوم الفطر قبل الخروج الى المصلى (عالمگيری مصری كتاب الزكوٰة، باب ثامن صدقه فطر ج١ ص ١٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٢). ظفير

(١). ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٨. ظفير (٢). ايضا. ظفير

حقير څخه متصوره نه ده، بله داچې مولانا مرحوم فرمايلي دي چې شپږ ديرش **۳۲** تولې **۵** نيمې ماشې، نه پوهيږم چې ددغه قدر څخه څومره سپين زر اوپه څه ډول **۳۹** روپۍ کيږي، حالانکې هره انګريزي روپۍ يوه توله وزن لري، په زړه کې مې تيريږي چې شايد يو مغشوش شي يې دانګريزي سکې څخه وضع کړي وي. والله اعلم بالصواب

اوهم په حاشيه ددرمختار، مطبوعه دنولکشوري محشي داسې ليکلي دي چې: فيکون الدرهم سبعة عشر طولجة ونصف طولجة اى رتى لانها اربع شعيرة ولثمان رتى ماشه فيكون الدرهم ماشيتين وواحد ونصف رتى فيكون من الذي هو ما بها درهم اربعمائة وسبعة وثلاثين ماشة ونصف ماشة ولانتهٰى عشرة ماشة قوله فيكون النصاب منها بحساب التوله ستة وثلثين توله وخمسة ماشة بحساب الروبية الساهنة التى هى احدى عشرة ماشة تسعة وثلثين روبية وثمان ماشه فيحكم تسهيلاً على اربعين روبية الخ ([1]).

او درهم مې په حاشيه راه نجات کې ليدلې دي چې درهم **۵** نيمې تولې په حساب دتيرې زمانې سره دي يعني بنارسي. دا شك حل کړی؟

جواب: دمولانا عبدالحی صاحب اودراه نجات صاحب دتحقيق او دتحرير ترمينځ دفرق وجه داده چې مولانا عبد الحی صاحب مثقال څلور اونيم ماشه غالبا نه دی تسليم کړی اوچې کله مثقال څلور اونيمې ماشه نه سي، لکه څنګه چې معروف اومذکور دی په اکثرو کتابونو کې نوحسب اوزان سبعه چې شرعًا معتبردي ددرهم وزن درې ماشتې يوه ١ نيمه ارتې کيږي اودوه سوه درهمه مساوي دي د **۵۲** تولو سره مروجه روپۍ ديوې تولې څخه درې رتې کميږي. فقط رشيد احمد بلند شهري.

الجواب صحيح، بنده عزيز الرحمٰن عفٰى عنه

__دزکات نصاب او دمثقال وزن__: **سوال**: (۵۸۰۱) غاية الاوطار ددرمختار په ترجمه کې ليکلي چې مثقال څلور نيمې ماشې وي اودزکات نصاب يې دو پنځوس نيمې تولې ليکلي دي، عمدة الرعاية دوقايه په حاشيه کې يې مثقال ته درې ماشې اويوه رتی ليکلی ده اودزکات نصاب يې **۳۲** تولې **۵** ماشې، دلته يې مخکې صدقه فطردوه سيره غنم فی نفر دانګريزي وزن څخه ورکول، اوس يومولوي صاحب ديوه سړي دپاره پاؤ بالا يو سير وايي.

جواب: دمثقال وزن څلورنيمې ماشې صحيح دي دغياث اللغات په ترجمه کې دي:دمثقال

([1]). ددر مختار په حاشيه نولکشوری کې د: على اربعين روية، څخه وروسته داعبارت هم دی چې: ويكون المثقال لثلث ماشة وواحد رتى فيكون النصاب من الذهب الذى هو عشرون مثقالا ثلث وستين ماشة ونصف ماشة ومن التولة خمس تولة وماشتين ونصف ماشة فيحكم على خمسه وربع توله والله اعلم. (درمختار نولکشوری ج١ ص ٨) باب زکوة المال. ظفير

بالكسر په نوم يو وزن چې څلور نيمې ماشې كيږي كه څه هم په دې كې ډير اختلاف دى مګر قوى خبره همدغه ده، انتهىٰ. نوپه عمدة الرعاية كې يې چې مثقال ته درې ماشې او يوه رتى ليكلې ده دا ددرهم وزن دى ځكه چې په شريعت كې ددرهم وزن معتبر دى چې دوزن سبعه په نوم سره مشهوره دى يعنى اووه مثقاله دلسو درهمو سره برابر دى، نوداوو مثقالو وزن په حساب دڤى مثقال ۴ نيمې ماشې، ۳۱ نيمې ماشې دى دا پرلسو تقسميږى نو يودرهم درې ماشې او يوه ۱ نيمه رتى سوه، دهمدې وجه څخه يې په غياث كې درهم په درې ۳ نيمې ماشې باندې ليكلى دى، تقريبًا داسې يې ليكلى دى، الغرض صحيح اواحوط هغه دى كم چې په غاية الاوطار ددرمختار ترجمه كې ليكلى دى او دزكات نصاب دو پنځوس نيمې تولې سپين زر اواوه نيمې تولې سره زردى، دشامى دتحقيق څخه هم دا معلوميږى اوددكر سوى حساب څخه نيم صاع تقريبا پاو كم دوه سيره په انګريزى وزن سره دى نو سرسايه ديوه شخص دغنمو څخه پاو كم دوه سيره وى، دوه سيره دى وركړى څه حرج نسته زيات ثواب دى مګردپاو كم دوه سيره څخه يې كمول نه دى په كار.

په شامى دوهم جلد باب صدقة الفطر كې دى: وهو اى الصاع الخ اعلم ان الصاع اربعة امداد والمد رطلان والرطل نصف من والمن بالدراهم مائتان وسبعون درهما وبالاستار اربعون والاستار بكسر الهمزة بالدراهم ستة ونصف وبالمثاقيل اربعة ونصف كذا فى شرح درر البحار فالمد والمن سواء الخ ([1]). ددى تحقيق حاصل دادى كم چې بنده ليكلى دى يو من يعنى ديومد وزن څلويښت استاره دى اويو استار څلورنيم مثقاله نوټول يو سل اواتيا مثقاله دى ددى ماشه ۸۱ ده اودا مساوى دى له ۲۷ نيمې تولو سره دا ديو مد وزن دى نودوه مده يعنى نيم صاع د (۱۳۵) تولو سره برابردى اوداپه انګريزى وزن يو چهټانګ كم پاؤ كم دوه سيره كيږى ، اوپه دوهم حساب چې دشامى په عبارت كې دمن وزن په دراهمو سره ليكلى دى چې يومن د ۲۷۰ درهمو دحساب څخه نصف ۳ تولې زياتې دى نوپه دى بناء دى دپاو كم دوو دوو سيرو حكم سويدى.

داتيا تولو وزن څخه دنيم صاع په وزن كې داختلاف حل: **سوال**: (۵۸۱) داتيا سيرو څخه دصاع اودنيم صاع وزن څه دى؟ په مفتاح الجنة كې نيم صاع يوسير اودولس چهټانګه ليكلى دى اوپه كشورى لغاتو كې يوسير نه چهټانګه ليكلى دى اوس دچاپه قول عمل په كاردى؟

([1]). ردالمحتار باب صدقة الفطر ج۲ ص ۱۰۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۵. ظفير

جواب: اتیا تولی دسیر دحساب څخه صاع اونیم صاع دکتابونو موافق موږ کړیدی ددی موافق صاع نژدی وی دری نیم سیره اونیم نژدی پاو کم دوه سیره ته په شامی اودرمختار اوپه نورو کی داسی دی په دی کی احتیاط دی (١).

که په کلی کی غنم پیدانه سی نودښار دنرخ سرسایه اداء کول څنګه دی؟ سوال: (٥٨٢) که دیوسړی دپاره په کلی کی غنم پیدا نسی اواوړه ډیر قیمته پیدا کیږی اوپه ښار کی دغنمو نرخ ارزان وی دښار له قیمت څخه صدقه فطر ورکول په کاردی که نه؟

جواب: دخپل ځای دقیمت مطابق صدقه فطر ورکول پکاردی، که هلته غنم نه پیدا کیږی نوداوړو قیمت دی وسنجول سی اویا داوربشو دصاع قیمت حسابول پکاردی، لنډه دا چی کم منصوص جنس چی دلته پیدا کیږی ددی دحساب قیمت دی ولګول سی (٢).

صدقه فطر په غنمو بدلول نیم صاع وریجی ورکول څنګه دی؟ سوال: (٤٨٤) که په صدقه فطر کی دغنمو پرځای نیم صاع وریجی ورکړی نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: جائز دی که چیری دنیم صاع وریجو قیمت دنیم صاع غنمو له قیمت سره برابر وی یازیات وی (٣). فقط

که یوسړی صدقه فطر څو متعددو کسانو ته ورکړی دا څنګه دی؟ سوال: (٥٨٤) دیوسړی صدقه فطر څوکسانو ته یا دڅو کسانو صدقه فطر یوسړی ته ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار: وجاز دفع كل شخص فطرته إلى مسكين أو مساكين على ما عليه الاكثر، وبه جزم في الولوالجية والخانية والبدائع والمحيط وتبعهم الزيلعي في الظهار من غير ذكر خلاف وصححه في البرهان فكان هو المذهب كما جاز دفع صدقة جماعة إلى مسكين واحد بلا خلاف يعتد به الخ (٤). نومعلومه سوه چی سرسایه دیوسړی څو کسانو یاددی عکس ورکول جائزدی.

په زمیندار سړی باندی سرسایه واجب ده اوکه نه؟ سوال: (٥٨٥) هرقسم زمیندار دهغه سره که مځکه ډیره وی اوکه لږ صدقه فطر ورباندی واجب ده اوکه نه ده؟

---

(١). وهو الصاع المعتبر ما يسع الفا واربعين درهما من ماش اوعدس انما قدر بهما لتساويهما كيلا ووزنا (در مختار) اعلم ان الصاع اربعة امداد والمدرطلان والرطل نصف من والدراهم مائتان (ردالمحتار باب صدقة الفطر ج٢ ص ١٠٤، ط. س. ج٢ ص ٣٢٥). ظفير

(٢). نصف صاع من بر او دقيقه اوسويقه اوزبيب الخ اوصاع تمر اوشعير الخ ومالم ينص عليه كذرة وخبز يعتبر فيه القيمة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج٢ ص ١٠٣، ط. س. ج٢ ص ٣٦٤). ظفير

(٣). ومالم ينص عليه كذرة وخبز يعتبر فيه القيمة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج١ ص ١٤٥، ط. س. ج٢ ص ٣٦٤). ظفير

(٤). الدر المختار مجتبائی باب صدقة الفطر ج١ ص ١٤٥، ط. س. ج٢ص ٣٦٤. ظفير

جواب: داخبره نسته بلکی خبره تراصلی حوائجو په پوره کیدلو پوری تړل سویده مځکه که ورسره لږوی اوکه ډیره. ضروری داده چی داصلی حوائجو څخه یې اضافه وی دومره مځکه وی چی قیمت یې دوه سوه درهمه یعنی۵۲ تولې وی چی نژدی د ۵۴ روپو کیږی. درمختار دفاضل عن حاجة الاصلیة په نصاب کی د۵۲ نیمو تولو سپینوزرو قیمت چی توله په څلور ۴ روپی سی نو مجموعه یې ۲۱۰ لیکلی دی.

په سرسایه کی دغنمو دقیمت برابر وریجی یاچنو دال ورکول صحیح دی: **سوال**: (۵۸۶) په صدقه فطر کی چی داوړو څه قیمت دی ددی په بدل کی وریجی یاچنو وال دال ورکول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: جائز دی.

په کم ځای کی چی غله رواج وی ددی نیم صاع سرسایه کافی ده اوکه نه ده؟ سوال: (۵۸۷) دصدقه فطر نصاب دغنمو نیم صاع او داوربشو یوصاع مقرردی بعض علماء دبنگال وایې پرغنمو باندی منحصره نه ده، په کم ځای کی چی غله زیاته رواج وی نوپه هغه کی نیم صاع هم کافی دی، نو څنگه چی په بنگال کی وریجی زیاتی رواج دی لهذا دوریجو نیم صاع کافی دی؟

جواب: داکلیه دهغه صاحبانو غلطه ده غنم منصوص بالحدیث دی اووریجی منصوص نه دی نو دوریجو دومره قیمت اداء کول په کاردی چی دغنمو دنیم صاع دقیمت سره برابر وی اوپخپله وریجی ورکول جائزنه دی.

دمفتی صاحب جواب: جواب صحیح دی په غیرمنصوص کی دقیمت لحاظ ضروری دی مثلا که چیری وریجی ورکړی نودومره دی ورکړی چی قیمت یې دغنمو دنیم صاع سره برابر وی اودغه جواب یې چی لیکلی چی پخپله وریجی جائز نه دی ددی دا مطلب دی چی وریجی بې دغنمو دقیمت څخه اعتبار ورکول جائزنه دی لعدم ورود النص به فکان کالزکوٰة الخ. له دینه معلومه سوه چی دغیر منصوص ورکول دمنصوص دقیمت په اعتبار جائز دی.

پرغریبانانو فطرانه واجب نه ده: **سوال**: (۵۸۸) دکلی پرغریبو خلگو داختر فطرانه جائزده اوکه ناجائز؟

جواب: پرهغو غریبو خلگ چی دنصاب خاوندان نه دی صدقه فطر واجب نه ده البته هغه خلگ چی دهغوی سره دپنځوسو روپو قیمت مځکه وی داوسیدو دځای څخه جلا. یاپه همدی اندازه زیورات یانور څه وی، نودده په ذمه باندی صدقه فطر واجب ده. فقط
قال فی الدر المختار فی باب صدقة الفطر علی کل حر مسلم ذی نصاب فاضل عن حاجة

الاصلية كدينه وحوائج عياله وان لم ينم ج٢ ص ٩٨ على هامش رد المحتار.

دښځې فطرانه پرچا باندې واجب ده؟ سوال: (٥٨٩) دښځې فطرانه پرچا باندې واجب ده پرمیړه باندې اوکه پرپلار باندې؟ اوکه نه خاوند به یې دمهر څخه ورکوي؟ که دښځې سره مال وي اوکه نه وي؟

جواب: ښځه چې دنصاب مالکه سي نو سرسایه وربانديې واجب سي که میړه یې اداء کړي نو صحیح کیږي اوپر پلار باندې یې واجب نه ده.

ولا يؤدي عن زوجة ولا عن اولاد الكبار وان كانوا في عياله ولو ادى عنهم اوعن زوجته اجزاهم استحسانا، كذا في الهداية، عالمگیری ج١ ص ١٩١؟.

دصاع وزن: سوال: (٥٩٠) دنیم صاع اصلي وزن څومره دی ددې دې پوره تحقیق وسي ستاسي حضراتو څه عمل دی؟

جواب: دصاع تحقیق په شامي کې په دې ډول دی: اعلم ان الصاع اربعة اربعة امداد والمد رطلان والرطل نصف من والمن بالدارهم مائتان وستون درهماً وبالاستار اربعون والاستار بكسر الهمزة بالدراهم ستة ونصف وبالمثاقيل اربعة ونصف كذا في شرح درر البحار فالمد والمن سواءان الخ (١). ددې تحقیق څخه معلومه سوه چې یواستار څلور نیم مثقاله دی اودمثقال وزن څلور نیمې ماشې دی نو څلویښت استاره چې دیوه مد وزن دی (٨١٠) ماشې دی ، په دې ډول :

٤٠ + ٤½ = ١٨٠ مثقال + ٤½ = ٨١٠ ماشه ÷ ١٢ = ٢٧ ½ توله .

نوکه ٢٧½ تولې دیوه وزن وي نوصاع دځلورو مدو کیږي، دصاع ٢٧٠ تولې سو، چې داتیا دري سیره وي په دې بناء پاو کم دوه سیره کیږي، دهمدې وزن په غنم ورکولو سره دصدقه فطر حکم کول کیږي، مولوي عاشق الهی ته معلومه سویده چې دیوه چهټانګ کمی یې کړی ده داسي چې دپاو کم دوه سیره حکم والاوو یو چهټانګ زیات کړیدی او دانښکاره ده چې زیاتول یې ښه دی اوکمول یې درست نه دی، اوځنګه چې دنیم صاع وزن یې یو سیر دري چهټانګه ویلی دی دا دشامي دتحقیق موافق نه دی.

سرسایه یوسړي ته افضل دی اوکه ډیروته؟ سوال: (٥٩١) فطرانه یوسړي ته ورکول افضل دی اوکه نه ډیروته؟

جواب: متعددو کسانو ته یې ورکول هم صحیح دي لیکن افضله دا ده چې یوه صدقه یو مسکین ته ورکول سي. وجاز دفع كل شخص فطرته الى مسكين او مساكين الى قوله كتفريق الزكوٰة

---

(١). ردالمحتار باب صدقة ج٢ ص ١٠٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٩ و ٣٦٠. ظفير

والامر فی حدیث اغنوهم للندب فیفید الاولویة الخ ([1]).

دمنصوصو شیانو څخه علاوه نور شیان په فطرانه کی ورکول: سوال: (۵۹۲) څه فرمایلی دی ددین علماوو چی په صدقه فطر کی دغنمو اواوربشو پرځای بل شی چی پرځای دخوراك پکښی وریجی وی جائزدی اوکه نه؟ یوسړی وایې حضرت مولانا گنگوهی قدس سره پر جواز باندی فتویٰ ورکړیده دعویٰ یې صحیح ده اوکه باطله تحقیق اوتفتیش وکړی؟

جواب: دفقهی په کتابونوکی دامنصوصه ده چی دغنمو او داوربشو اوداسی نورو منصوصه شیانو څخه ماسواکم چی غیر منصوصه شیان دی لکه وریجی، نخود، باجری، جوار اوداسی نور په دی کی دقیمت لحاظ دی یعنی په وریجو اونخودو او داسی نور مثلاً دومره دی ورکړی چی قیمت یې نیم صاع غنم وی اویا دیو صاع اوربشو اوداسی نورو ته ورسیږی. ومالم ینص علیه کذرة خبز یعتبر فیه القیمة الخ (درمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص ۱۰۴) په کم ځای کی چی وریجی خوړل کیږی نوهغه ته پکار دی چی دومره وریجی ورکړی چی قیمت یې دنیم صاع دغنمو سره برابر وی یا یوصاع اوربشوته ورسیږی دحضرت گنگوهی قدس سره ماته څه تحقیق نسته. ([2]) فقط والله تعالیٰ اعلم

دفطرانی اودقربانی وجوب: سوال: (۵۹۳) صدقه فطر اوقربانی په کمو خلګو واجب ده او دصدقه فطر مستحق خلګ څوك دی؟ روژه دار اوکه عوام الناس اوکه په چا باندی قرض وی په هغه باندی صدقه فطر واجب ده اوکه نه؟

جواب: دصدقه فطر اداء کول دهغه چاپه ذمه باندی واجب دی چی دنصاب خاوندوی او غنی وی یعنی دپنځوس، شپیتو روپو مځکه یانغدی یانور وی ([3]) اوکه داسی نه وی نو صدقه فطر ورباندی واجب نه ده. ([4]) اوصدقه فطر به محتاج سړی ته ورکړی دانبه ده چی نیك خلګ وی اولمونځ گذاره اوروژه نیسی اوکه غیر روژه داروته چی محتاج وی ورکول سی هم صحیح ده صدقه فطر اداء کیږی اوقربانی هم په همدغه ډول خلګو واجب

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صدقة الفطر ج۲ ص ۱۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۷. ظفیر

([2]). تجب (ای صدقة الفطر) (الی قوله) علی کل حر مسلم ولو صغیرا مجنونا، حتی لو لم یخرجها ولیهما وجب الاداء بعد البلوغ (ذي نصاب فاضل عن حاجته الاصلیة) کدینه وحوائج عیاله (وإن لم ینم) کما مر (وبه) أي بهذا النصاب (تحرم الصدقة) کما مر، وتجب الاضحیة ونفقة المحارم علی الراجح (درمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص ۹۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۹، ۳۶۰). ظفیر

([3]). نصاب ۵۲ نیمی تولې سپین زر یاددې قیمت دی، اوس په دې زمانه کی د ۵۲ نیمی تولو سپینو زرو قیمت دوه سوه لس ۲۱۰ روپی سویدی. ظفیر

([4]). اعلم ان الصاع اربعة امداد والمد رطلان والرطل نصف من والمن بالدراهم مائتان وستون درهما وبالاستار اربعون والاستار بکسر الهمزة بالدراهم ستة ونصف ﷺ (ردالمحتار ج۲ ص ۱۰۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۵). ظفیر

ده چی غنی وی اودنصاب مالك وی، اوکه په چا باندی قرض زیات وی چی که چیری قرض اداء کړی ، نو دنصاب په اندازه به ورسره پاته نه سی، نوبیا وربانذی صدقه فطر او قربانی واجب نه ده.

دصاع تحقیق: **سوال**: (۵۹۴) داختر دفطرانی وزن څه دی؟ اوقاضی ثناء الله صاحب اته رطله یوه صاع مقرر کړیده او یو مولوی صاحب دوه سیره شپږ چهټانګه وزن دصاع بیان کړی دی، ایا داصحیح دی اوکه څنګه؟

جواب: دصاع وزن هغه صحیح دی چی کم قاضی ثناء الله صاحب ﷫ بیان کړیدی اوپه همدی باندی عمل پکار دی، دانګریزی وزن څخه دصاع وزن قریب نیم پاؤ اودری نیم سیره دی اونیم صاع پاو کم دوه سیره یو چهټانګ وی، ددی موافق دی صدقه فطر اداء کړل سی اوپه دی کی احتیاط دی، اوهغه مولوی صاحب چی دوه سیره اوشپږ چهټانګه وزن دصاع بیان کړیدی صحیح نه دی، کمو خلګو چی ددی موافق صدقه فطر اداء کړیده هغوی ته په کارده چی څه پاته دی هغه دی هم اداء کړی.

دنیم صاع وزن: **سوال**: (۵۹۵) دنیم صاع اصلی وزن څومره دی ددی پوره تحقیق څه دی؟ تاسی حضراتو په دی باندی عمل نه دی کتلی؟

جواب: دصاع تحقیق په شامی کی داډول دی: اعلم ان الصاع اربعة اربعة امداد والمد رطلان والرطل نصف من والمن بالدارهم مائتان وستون درهماً وبالاستار اربعون والاستار بالدراهم ستة ونصف بالمثاقیل اربعة ونصف کذا فی شرح درر البحار فالمد والمن سواء الخ. (۱) ددی تحقیق څخه ښکاره ده چی یواستار څلور نیم مثقاله دی او دمثقال وزن څلور نیمی ماشتی دی نوڅلویښت استاره چی دیوه مد وزن دی (۸۱۰) ماشی دی په دې ډول: ۴۰ + ۴½ ½ = ۸۱۰ ماشی ÷ ۱۲ = ۲۷ ½ تولې. نوکه چیری د ۲۷½ تولی دیوه مد وزن سو نوصاع به څلور مده وی، نو دصاع وزن ۲۷۰ تولی دی چی د۸۰ سیرو په وزن اویو نیم پاو سو، نونیم صاع نیم چهټانګ کم پاو کم دوه سیره وی، په دی بناء باندی دوه سیره غنم ددی په وزن کی دصدقه فطر دورکولو حکم سویدی دمولوی عاشق الهی صاحب څخه معلومه سویده چی دیوه چهټانګ کمی سویده داسی چی پاو کم دوه سیره حکم کوونکو یو چهټانګ زیات کړیدی اوداښکاره ده چی زیاتول یې ښه دی اوکمول یې ښه نه دی یعنی صحیح نه دی، اوچاچی وزن دنیم صاع یوسیر اودری چهټانګه لیکلی دی نوهغه دشامی دتحقیق موافق

(۱). ردالمحتار ج۲ ص ۱۰۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۲۵. ظفیر

صحیح نه دی. فقط

دصدقه فطر مصارف: **سوال**: (۵۹٦\) دزکات، صدقه فطر اودقربانی دځرمنی مصرف یودی اوکه نه څه فرق لری؟ که چیری سیدانو ته اوپلار مورته زکات یاصدقه فطر، یادقربانی څرمن ورکړی نودا اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: دزکات، صدقه فطر، او دقربانی دڅرمنی مصرف یودی یعنی هغه خلګو ته چی دزکات ورکول صحیح نه دی نوهغوی ته دصدقه فطر اودقربانی څرمن ورکول هم درست نه دی (١). اوسیدانو ته دزکات ورکولو په باره کی صحیح فتویٰ داده چی ناجائز دی (٢). او اصول اوفروع که عمداً یعنی سره ددی چی وروی رسوی صدقه فطر یا دقربانی څرمن ورکول سی نوصدقه فطر اونور وغیره یې اداء نه سول (٣). دوباره به یې ورکوی، همدغه حکم دزکات دی، خوکه په تاریکه کی ده داسی فکر وکی چی دا یو محتاج دی زکات یا سرسایه یې ورکړه بیا وروسته معلومه سوه چی داخو غنی دی یایې پلار دی یایې نیکه دی یایې زوی دی نوزکات او فطرانه یې اداء سوه او دبیا ورکولو ضرورت یې نسته (۴). لیکن دمسئلی دنه پوهیدو په وجه پلار اونورو ته په ورکولو زکات اونور نه دی اداء سوی دوباره ورکول یې په کاردی.

دجومات امام ته صدقه فطر ورکول جائز دی؟ سوال: (۵۹۷\) امام ته صدقه فطر ورکول جائز دی اوکه نه؟

جواب: دامامت په وجه ورته فطرانه ورکول جائز نه دی (۵). فقط

نهم باب

دزکات متفرق مسائل

چاته سل روپی قرض ورکړی ۴۵ کاله وروسته یې وصول کړی نوزکات به یې څه ډول اداء کوی: **سوال**: (۵۹۸) یوسړی بل سړی ته سل روپی قرض ورکړی مدیون ۴۵ کاله وروسته قرض ورکی، نوڅومره اندازه زکات ورکول په کاردی؟

---

(١). وصدقة الفطر کالزکوٰة فی المصارف فی کل حال (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ج٢ ص ١٠٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٢٩). ظفیر

(٢). ولا تدفع الی بنی هاشم الخ (هدایه ج١ ص ١٨٨). ظفیر

(٣). ولا یدفع المزکی زکوٰة ماله الی ابیه وجده وان علا (هدایه ج١ ص ١٨٨). ظفیر

(۴). قال ابوحنیفه ومحمد رحمهما الله اذا دفع الزکوٰة الی رجل یظنه فقیرا ثم بان انه غنی او هاشمی اوکافر او دفع فی ظلمة فبان انه ابوه اوا بنه فلا اعادة علیه (هدایه ج١ ص ١٨٩) . ظفیر

(۵). وصدقة الفطرکالزکوٰة فی المصارف کل حال (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ط.س ج٢ ص ٣٢٩). ظفیر

جواب: مسئله داسی ده چې دقرض دوصول کولو څخه وروسته ددې زکات دتیرو کلونو لازمې دې دسلو روپو ۲½ روپې دي، بیا هرکال به لږ لږ کمیږی ترهغه چې دنصاب څخه کمې سي بیا به زکات ساقط سي.

که په ورکولوېې غالب ګمان نه وي نوڅه وکړي؟ سوال: (۵۹۹) دزکات پرخاوند باندې مبلغ ۲۰ روپې واجب الاداء وې هغه مبلغ ۱۵ خوپه یقینې ډول سره اداء کړېدې خوپه پنځو کې یې شك دی چې آیا اداء کړیدي اوکه نه؟ نو ددې پنځو روپو اداء کول دده پر ذمه باندې ضروري دي اوکه نه؟

جواب: دچاچې پرغالب ظن باندې دا وي چې اداء کړي یې نه دي نوظن غالب ته اعتبار دی نوده ته ددغه باقي پنځه روپو اداء کول په کاردي.

که یوسړي دزکات داداء کولو څخه بغیر مړسو نودهغه دزکات حکم څه دی؟ سوال: (۶۰۰) عمر دنصاب خاوند دی په هغه باندې دزکات ورکول واجب سوي وو، لیکن هغه دزکات اداء کولو څخه مخکې یو نابالغ ماشوم پرېښووی اومړ سو نودعمر ښځه اوولي دهغه دمال څخه مخکې پاته سوي زکات ورکولی سي اوکه نه؟ اوهم اوسنی زکات؟

جواب: دمتوفي دوصیت څخه بغیر په مشترك متروکه مال کې زکات نسي اداء کولی ځکه چې واراث نابالغه ماشوم دی دهغه په برخه کې دوصیت څخه بغیر داتصرف نسي کولی (١). فی الدر المختار واما دین الله تعالی فان اوصی به وجب تنفیذه، په شامي کې یې ویلی دي. وذالك کالزکوٰة والکفاراة الخ، جلد خامس (٢). فقط

په ګوټمیو او نورو زیوراتو کې زکات سته اوکه نه؟ سوال: (۶۰۱) په ګوتمیانو او نورو زر او زیوراتو کې زکات سته اوکه نه؟

جواب: چې دنصاب اندازې ته ورسیږي زکات پکښې واجب دی اوکه چیرې نصاب دسپینو زرو اوداسې نورو موجود وي نوهغه دې هم په اندازه سي اوپکښې شامل دي کړل سي زکات ورکول یې په کاردي اوپه زیوراتوکې هم زکات ورکول واجب دی (٣) فقط

---

(١). ولوکان الدین الخ فوصل الی ملکه لزم زکوٰة مامضی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۶۶ و ۲۶۷). ظفیر

(٢). ولو مات فاداها وارثه جاز (درمختار) فی الجوهرة اذا مات من علیه زکوٰة اوفطرة اوکفارة اونذر لم تؤخذ من ترکته عندنا الخ وان اوصی تنفذ الوصیة من الثلث (ردالمحتار باب صدقة الفطر ج۲ ص ۹۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۵۹) . ظفیر

(٣). واللازم فی مضروب کل منهما ومعموله ولوتبرا اوحلیا مطلقا مباح الاستعمال اولا ولو للتجمل والنفقة لانهما خلقا اثمانا فیزکیهما کیف کانا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج۲ ص ۴۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۹۷ و۲۹۸) . ظفیر

په لوټونو باندې هم زکات ورکول واجب دي اوکه نه؟ سوال: (۲۰۲\) حکومتي نوټونه دمال سندي پخپله مال نه دي که ديو کاروباري سړي سره مثلاً دزرو روپو نوټ وي اوپه هغه باندې يې ديوکال ګذاره کيږي اودضروري حاجتونو څخه يې اضافه ايښي وي نو آيا ددې روپو دزکات سره چې دنصاب کم مقدار وي په دغه لوټونو کې هم زکات واجب دی اوکه نه؟ که وي نودلوټ په زکات کې نوټ ورکول پکاردي ځکه چې په نغدولو کې يې ډيرې پيسې کميږي مثلا په يوزرو روپو کې پنځه لس روپې کميږي او دلوټ په ورکولو کې احتمال دی چې شايد زکات اداء نه سي څنګه چې مولانا اشرف علی صاحب په الامداد دصفري په مياشت کې ليکلي دي؟

جواب: په دغه لوټونو باندې زکات واجب دی اوکه په زکات کې نوټ ورکړي نوپه دې کې دزکات داداء کيدو هم هغه صورت دی لکه چې په الامداد دصفري دمياشتي په ګڼه کې دی چې چاته يې په زکات کې نوټ ورکړي کله چې هغه په هغه باندې روپۍ اونور څه واخلي او قبض يې کړي نوزکات اداء سي اوپه کتابونو کې دلوټ ذکر نسته چې ديو کتاب عبارت درته وليکو. فقط

دتقاعد له جمع سوو روپو څخه زکات: سوال: (۲۰۳\) دپراوډنټ روپۍ کمې چې دوظيفې دختميدو څخه وروسته ورته ورکول کيږي، نوکه پردې باندې دزکات څه حکم وي نوکه په دې کې في الحال ممکن نه وي نوڅه وکړي؟

جواب: دملازمينو دتنخواه څخه چې څه روپۍ وضع کيږي بيا دهغه سره څه اندازه يوځای کول کيږي او دملازمت دختميدو وروسته ورته ورکول کيږي هغه يو حکومتي انعام شميرل کيږي په هغه کې دتيرو کلونو زکات نه دی واجب دوصول کيدو څخه وروسته په دغه کال کې چې دنصاب په اندازه وي اوکال باندې تير سي نوزکات ورکول باندې لازم دي (١).

دتقاعد فنډ دسود حکم: سوال: (۲۰۴\) دحکومت دخوا څخه يوه قاعده پراوډنټ فنډ دی چې په هغه کې دملازمينو دتنخواګانو څخه يوڅه اندازه چې څومره دملازم خوښه وي وضع کيږي اوپه فنډ کې جمع کيږي اوپه دغه جمع سوی رقم کې دسرکار په خوښه سود ورکوی، ددې اخيستل جائزدي اوکه نه؟

جواب: سودهيچاته جائزنه دی البته که حکومت دانعام په شکل دوضع سوی رقم دتنخوا سره دوه اندازه يا څومره چې ورسره يوځای کړي اخيستل يې جائز دي او دا حکم هم دی

---

(١). وعند قبض مائتين مع حولان الحول بعده ای بعد القبض من دين ضعيف وهوبدل غير مال کمهر ودية وبدل کتابة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة ج۲ ص ۴۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۰۵). ظفير

چی دچا روپی په بینکونو یا نورو کی جمع سوی وی دهغه سود دی هوری حکومت ته نه پریږدی اودکفارو سره دی مرسته نه کوی بلکی دهغوی څخه دی واخلی اومساکینو او فقیرانو ته دی ورکړی.

دتقاعد فنډ او دبینک پر رقمونو زکات سته او که نه؟ سوال: (٢٠٥) فتوٰی نمبر (٢٥٢٠) راغله آیا دپراوډنټ فنډ دبینك یا دډاکخانی په روپوکی زکات سته اوکه نه؟ دبینك او دډاکخانی روپی دجمع کوونکوپه قبضه اواختیارکی دی یعنی کله چی وغواړی ایستلی یې سی لیکن دپراوډنټ فنډ روپی داسی دی چی کله وظیفه پریږدی یامړسی بیایې ورته ورکوی نوپه دغه روپوکی زکات واجب دی اوکه نه؟ بل داچی تاسی محترم خو سود ناجائز لیکلی دی چی سود هیچاته جائزنه دی او بیامو فرمایلی دی چی دبینك اودنورو څخه سود واخلی اوغریبانو ته یې ورکړی ځکه سود ناجائزدی نودغه ناجائزه روپی دکم ځای څخه غریبانانو ته جائزدی؟

جواب: پردی روپو باندی زکات دوصولولو څخه وروسته اودکال دتیریدلو څخه وروسته واجب ([1]) دی اودعدم جواز باوجود چی دافتوٰی ورکول کیږی چی په بینك وغیره کی دی دغه روپی نه پریږدی بلکی دهغه ځای څخه دی واخلی اوغریبانو، فقیرانو اومسکینانو ته دی ورکړی، ددی یوه خاصه وجه ده اوهغه داچی که هغه هلته روپی پریږدی نو معلومیږی چی دغه روپی پادریانو ته ورکول کیږی چی په هغه باندی هغوی دخپل مذهب اشاعت کوی اومسلمانان مرتد کوی اودغه روپی په دی کی مصرفوی اودشریعت حکم دادی چی: من ابتلی ببلیتین فلیختر اهونهما، یعنی که یوسړی په دوو مصیبتونو کی اخته سی نوهغه دی ترټولو اسان اوکم مصیبت اختیار کړی نوسود اخیستل که څه هم ګناه ده لیکن دومره ګناه نه ده لکه مسلمانان چی مرتد کړی اوپه بی دینه کولوکی یې امداد ورکړی ددی وجه څخه دی په دی کی دی دټولو څخه اسانه طریقه اختیار کړل سی.

دتنخواه څخه چی یوه حصه دفنډ په نوم بیلیږی دهغه زکات: **سوال**: (٢٠٦) زید دریلوی ملازم دی دهغه دتنخواه یوه ١ حصه ددولسو ١٢ حصو څخه په هره میاشت کی بیلوی اوپه فنډکی یې جمع کوی اوریلوی دغه روپی دفنډ په قرض ورکوی اوسود وربادی اخلی، ددی فنډ په ټولو روپو زکات فرض دی اوکه نه؟

جواب: ددی روپو زکات دوصول څخه وروسته په اتنده کی لازم دی ([2]).

([1]). وعند قبض مائتین مع حولان الحول بعده ای بعد القبض من دین ضعیف وهو بدل غیر مال کمهر ودیة وبدل کتابة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب زکوٰة المال ج٢ ص ٤٩، ط. س. ج٢ ص ٣٠٦). ظفیر

([2]). ولا زکوٰة علی مکاتب الخ ولافی مفقود الخ وما اخذ مصادرة ثم وصل الیه بعد سنین لعدم النمو (الدرالمختار =

زكات يې اداء كي ليكن شرعًا اداء نسو نوڅه ثواب پكښې وركول كيږي اوكه نه؟ سوال: (۲۰۷) كه څيرى زكات اداء كړى خو دڅه شرعى وجه څخه اداء سوى نه وى نوڅه ثواب وركول كيږي اوكه نه؟

جواب: ثواب وركول كيږي (۱). فقط

داجارې په مځكه زكات سته اوكه نه؟ سوال: (۲۰۸) كه مځكه په منافعو باندى وركړي او روپى دڅو كالو پيشګى اداء كړى نوپه دى باندى زكوٰة وركول اوړى اوكه نه؟

جواب: كه مځكه په ټيكه باندى يعنى په اجاره باندى وركړى او دهركال اجرة معلوم كړى اودڅو كالو اجرت پيشګى وركړى نودا درست دى، او ددى روپو زكات لازم نه دى.

دزكات په نيت چي مختلفي روپى مصرفيږي نو دهغه څخه دى زكات ادا سى اوكه نه؟ سوال: (۲۰۹) ما دزكات يوه كتابچه جلا ايښى ده، اوس چى څه په محتاجانو مصرفوم هغه ليكم مثلا ديوه لا وارث په كفن پنځه روپى مصرف سويدى هغه مى وليكلى اوڅومره چى دبارى تعالٰى په لاره كى دمسكينانو اودغريبانو دخبر اخيستنى دپاره وركوم هغه ټول ليكم او دوركولو په وخت كى په زړه كى دزكات نيت هم كوم نو په دى صورت كى زكات اداء سو اوكه نه؟

جواب: مسكينانو اوغريبانو ته په متفرق ډول چى څه دزكات په نيت وركول سى څنګه يې چى ته كوى جائزدى اوزكات پكښى اداء سو، ليكن دلاوارثه مړى په كفن كى چى څه مصرف سوى دى هغه په زكات كى نه حسابيږي. داصدقه به نفلى وى ځكه چى په زكات كى دژوندى فقير مالك جوړول شرط دى.

په جواهراتو كى اوپر داسى نورو باندى زكوٰة نسته: **سوال**: (۲۱۰) په جواهراتو لكه هيرا، زمرد، لعل، ياقوت اوداسى نورو كى زكات سته اوكه نه؟

جواب: په درمختار كى دى چى په جواهراتو كى زكات نسته مګر كه هغه دتجارت دپاره وى. لازكوٰة فى اللآلى والجواهر الخ الا ان تكون للتجارة الخ، درمختار (۲)، فقط

دزكوٰة روپى چى دډاک په ذريعه ليږى نوفيس دكم ځاى څخه اداء كړل سى؟ سوال: (۲۱۱) دزكات روپى كه دمنى آرډر په ذريعه وليږل سى نوددى فيس دهمدى څخه اداء كول جائز

= على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج۲ ص ۱۱ ط. س. ج۲ ص ۲۲۳)، واعلم أن الديون عند الامام ثلاثة: قوي، ومتوسط، وضعيف، فتجب زكاتها إذا تم نصابا وحال الحول، لكن لا فورا بل عند قبض أربعين درهما من الدين القوي كقرض وبدل مال تجارة فكلما قبض أربعين درهما يلزمه درهم وعند قبض مائتين مع حولان الحول بعده اى بعد القبض من دين ضعيف وهو بدل غير مال كمهر ودية الخ (ايضا باب زكوٰة المال ج۲ ص ۴۷ ، ط. س. ج۲ ص۳۰۵). ظ

(۱). ان الله لا يضيع اجر المحسنين (القرآن). ظفير

(۲). الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج۲ ص ۱۸ ، ط. س. ج۲ص ۲۷۳. ظفير

دی اوکه نه؟

جواب: په دی طریقه دزکات لیږل درست دی لیکن دمنی آرډر فیس جلا دخپل ځان څخه ورکول په کاردی (١). فقط

دمهر پرمقروض باندی زکات واجب دی: **سوال**: (٢١٢) دمهر پرمقروض باندی زکوٰة اوړی اوکه نه؟

جواب: په شامی کی دی والصحیح انه غیر مانع (٢). یعنی صحیح داده چی دین دمهر مؤجل دزکات مانع نه دی زکات پردی باندی دموجوده مال دنصاب په اندازه واجب دی.

زکات که غریب ته ورکول سی او په خپل قرض کی ځینی واخلی نو ددی څه حکم دی؟

سوال: (٢١٣) دزید په یوسړی باندی روپی قرض دی اودغه سړی مفلس دی زید داحیله کوی چی دخپلو روپو زکات وباسی اودغه مقروض ته یې ورکړی اوبیا دی له ده څخه قرض واخلی دا زکات اداء سو اوکه نه؟

جواب: اداء سویدی (٣). فقط

دنیت څخه بغیر چی کمی روپی فقیرانو ته ورکړی دازکات اداء سو اوکه نه؟ **سوال**: (٢١٤) یوسړی چی دزکات خاوند دی یووخت دزکات دورکولو په نیت یوه معلومه اندازه روپی دمالیت په لحاظ نه دی کړی اودالله ﷻ په نوم خیرات په ډیر مقدار ورکوی لیکن کله یې نیةً یاخیالاً دزکات په نوم نه دی ورکړی که دتیرو سوو کلونو زکات ادا سوی نه وی نو آیا ټول په یووار اداء کول یې لازم دی اوچی دتیرو کلونو مالیت هم کم اوزیات وی نو اوس په کم معیار دتیرو کلونو مقدار په مجموعی توګه مقرر کړل سی؟

جواب: چی کمی روپی دزکات دنیت څخه بغیر خیرات کړل سی نو هغه په زکات کی نه حسابیږی اوزکات نه اداء کیږی (٤) دتیرو ټولو کلونو زکات اداء کول لازم دی، اودهرکال تقریبی اندازه چی پر کم یې غالب ګمان وی هغه قائمول په کار دی او په تدریج سره اداء

---

(١). ولایخرج (المزکی) عن العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ط. س. ج٢ ص ٢٧٠) اودا مسلمه ده چی دمنی آرډر فیس (پیسو استولو مزدوری) فقیرانو ته نه ورکول کیږی ددې وجه څخه نو هغه په زکاة کی نه شمارل کیږی، والله اعلم. ظفیر

(٢). ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢٧. ظفیر

(٣). واداء الدین عن العین وعن دین سیقبض لایجوز وحیلة الجواز ان یعطی مدیونه الفقیر زکوته ثم یاخذها عن دینه ولو امتنع المدیون مدیده واخذها لکونه ظفر بجنس حقه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٢، ط. س. ج٢ ص ٢٧٠). ظفیر

(٤). وشرط صحة ادائها نیة مقارنة له ای للاداء ولو کانت المقارنة حکما ﷺ ولا یخرج عن العهدة بالعدل بل بالاداء للفقراء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج٢ ص ١٤، ط. س. ج٢ ص ٢٢٨). ظفیر

کول هم ددی زکات درست دی، اوټول په یووار لازم نه دی.

دتیرو کلونو زکوٰۃ چي شرعًا نه دي اداء سوي دهغه دپاره دي څه صورت اختیارسي: سوال: (۲۱۵) ماچي شل پنځه ویشت کاله زکات ورکړی دی، داسی کسانو ته می ورکړی دی چي زما دذمي څخه نه دی اداء سوی خپلو خپلوانو اوخور اولور اونورو غریبانو ته می ورکړی دی. مګر اوس زه دا غواړم چي ماته داسي خبره وښیي چي کم کلونه چي تیر سویدی دهغه زکات زما دذمي څخه اداء سي لیکن ماته دا یاد نه دی چي کم کلونه تیر سویدی په فلاني کال کی دومره روپي زما سره وی اوپه فلانی کال کی دومره وی لیکن ماته دابښه معلوم دی چي دهغو روپو څخه په مصرف کولو سره ډیری لږی پاته سوی اونه ما ددی روپو څخه څه قسم تجارت یانور څه کړی دی بلکی ددی څخه یوازی مصرف کوم په دی وخت کی باید څه وسی چي تیر زکات زما پرذمي باندی اداء کړل سی؟

جواب: دتیرو کلونو چي زکات نه دی اداء سوی دهغه داوس دادا کولو دپاره داوسنی صورت څخه غیر بله لاره نسته چي په خپل فکر ددغو کلونو اندازه وکړی چي په هرکال کی تخمینًا څومره څومره روپي وی اوهم دی واضح سی چي خور اودخور اولاد چي غریب وی هغوی ته زکات ورکول درست دی البته اولادونو اولمسیانو ته زکات ورکول صحیح نه دی (۱) اودادی هم اندازه سی چي څومره دی اولادونو ته ورکړی وی اوڅومره خورته ځکه چي خور ته ورکړل سوی دی هغه اداء سوی اوچي اولاد او داولاد اولاد ته ورکړل سوی هغه نه دی ادا سوی، غرض داچي ددی اندازی څخه چي دڅومره روپو په هر کال موجودیت یې په یاد وی نو دهغه دی حساب وسی اواداء دی سی او تر خپل طاقت پوری تخمین دی داسی وسی چي دخپل خیال موافق پکښی زیاتوب وکړی اوکمی ونه کړی ولی چي په دی کی احتیادی. فقط

کمه قرضه چي حکومت ته ورکول سوي وي نودهغه زکات کله واجبیږی؟ سوال: (۲۱۶) زید حکومت ته سل روپي دقرض په شکل ورکړی وی تراوسه یې وصول کړی نه دی یوکال وروسته دوصول کیدو امید سته نوددی زکات دزید په ذمه وروسته دوصول کیدو څخه واجب الاداء دی اوکه نه مخکی دوصول څخه یې دهر کال زکات ورکول په کاردی؟

جواب: ددی قرض زکات وروسته دوصول څخه واجب الاداء کیږی له وصول څخه مخکی زکات ورکول واجب نه دی خوکه زکات یې مخکی دوصول څخه ورکړی نو ادا به سی. او وروسته دوصول کیدو څخه بیا ادا کیدل نه غواړی. کذا فی کتب الفقه (۲). فقط

(۱). ولا الی من بینهما ولاد (درمختار) وقید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب کالاخوة والاعمام والاخوال الفقراء بل هم اولی لانه صلة وصدقة (رد المحتار باب المصرف ج۲ ص ۸۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۴۲). ظفیر =

يو مسكين ته دزكات څخه دمياشتي څه مقررول څنګه دي؟ سوال: (٢١٧) يو مسكين سړی ته يې دزكات څخه مثلا يوه روپۍ دمياشتی مقرره کړه نو زكات اداء كيږی اوكه نه ؟

جواب: زكات اداء كيږی ([1]). فقط

آيا دغلي دقيمت ځلوېښتمه حصه په زكات كي وركول سي؟ سوال: (٢١٨) دغلی دخرڅولو څخه وروسته دغلی دقيمت ځلوېښتمه حصه وركول په زكات كی څه حكم لری ؟

جواب: په دی صورت كی دغلی دقيمت ځلوېښتمه برخه په زكات كی وركول دكال دتيريدلو څخه وروسته لازم دی ([2]). فقط

دمدرسي دپاره جبرًا عشر اوچنده اخيستل څنګه دي؟ سوال: (٢١٩) جبرًا عشر اوچنده اخيستل اوپه مدرسه يا مكتب كی يې مصرفول جائزدی اوكه نه؟

جواب: په نفلی صدقه كی جبر كول درست نه دی. فقط

دزكات روپۍ چي چا په خرڅ باندي وركړي ددي څه حكم دي؟ سوال: (٢٢٠) ديوه سړی سره دمدرسی مهتمم يوڅه روپۍ دزكات دطالبانو په واسطه اينبی وی دهغه څه ضرورت ورته پيداسو هغه دوی روپۍ دمهتمم داجازی څخه بغير په خپل مصرف كی ولګولی او بيايې اداء كړی نو ددی په باره كی څه حكم دی؟

جواب: ددی مصرفول جائزنه دی خو داداء كولو څخه وروسته دا بری كيږی.

ددفن سوو روپو زكات: سوال: (٢٢١) په مځكه كی چی كمی روپۍ ښخی سوی وی او دهغه هيڅ قسم نفع نه وی نو زكات پكښې سته اوكه نه؟

جواب: ددی روپو زكات وركول هركال پكاردی ([3]).

دزكات انجمن: سوال: (٢٢٢) داسی يوانجمن قائمول چی پكښې دزكات مال مسكينانو ته وركول كيږی جائزدی اوكه نه؟

جواب: صحيح دی.

دقرض روپو زكات: سوال: (٢٢٣) په قرض كی چی كمی روپۍ پرتی وی اونصاب ته رسيږی اويو كال باندی تيرسی نوپه دی كی زكات واجب دی اوكه نه؟

= ([2]). ولوكان الدين ﷺ فوصل الى ملكه لزم زكات مامضٰى (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوٰة ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٢. ٢٢٧). ظفير

([1]). ومقارنة بعزل ماوجب كله اوبعضه ولايخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء (ايضا) ط.س. ج٢ ص ٢٧٠.

([2]). تجب فی كل مائتی درهم خمسة دراهم الخ (عالمگيری كتاب الزكات باب ثالث ج١ ص ١٢٧، ط. س. ج٢ ص ٢٧٨). ظفير

([3]). ولافی مال مفقود (الی قوله) ومدفون ببرية نسی مكانه ثم تذكره بخلاف المدفون (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٢). ظفير

جواب: په قرض کی چی کمی روپی پرتی وی اونصاب ته رسیږی اوکال باندی تیرسی نو ددی زکات دوصولو څخه وروسته واجبیږی څومره چی وصول سی دهغه زکات دی اداء سی اوکمی روپی چی دمینځ څخه ولاړی سی نو دهغه زکات هم ساقطیږی (١).

دقرض دوصولولو څخه وروسته زکات: **سوال**: (٢٢٤) کم قرض چی دوصول قابل وی نو د هغه زکات ورکول اوس دی اوکه نه دقرض په وصول باندی؟ اوکمه قرضه چی فی الحال قابل وصول ده لیکن شاید یو څه وخت وروسته غیر قابل وصول وګرځی، یابعضی قرض داسقاط سره وصول سی نو ددی په باره کی څه ارشاد دی؟

جواب: دقرض دوصول کولو څخه وروسته دزکات اداء کول واجب دی لیکن که دوصول څخه یې مخکی ورکړی نوداهم جائزدی، اوچی قرض تراوسه دوصول قابل وی او وروسته شاید دوصول قابل نه وی نوپه دی کی هم همدا حکم دی چی تیرسو.

دقرض روپو زکات دی کله اداء سی؟ **سوال**: (٢٢٥) خالد عابدته دکاروبار دپاره قرض روپی ورکړی عابد په کاروبار کی تاوان وکی دخالد روپی مصرف سوی عابد خپل کور خالد ته رهن کی یعنی ګرو یې ورکی، اوس خالد ددی روپو زکات په څه ډول اداء کړی؟

جواب: په قرض کی چی کمی روپی دی دهغه زکات وروسته دوصول څخه اداء کول واجب دی، نوکه روپی وصول سوی نه وی دهغه زکات اداء کول لازم نه دی. فقط

دصدقي ثواب دکور مالک ته رسیږی اوکه دکور ټولو غړو ته؟ **سوال**: (٢٢٦) که څوك په کورکی نه لس کسان وی اوټولو شیانو اختیار دیوه سړی سره وی اودغه سړی دټولو په خوښه اختیار سوی وی، که داسړی صدقه ورکړی نویوازی ده ته ثواب رسیږی اوکه نه ټولو ته؟

جواب: که صدقه دټولو دشریك مالك څخه وی نوثواب یې ټولوته رسیږی که دټولو په اجازه سره صدقه ورکول سی.

دپراوډنټ فنډ زکوٰة او دهغه دسود حکم: **سوال**: (٢٢٧) زه په انګریزی حکومت کی په لس روپی ملازم یم لس انی می تنخوا ده اوپنځه انی حکومت ته ورکوم ټولی پنځلس انی دمیاشتی زماپه نوم په بینك کی جمع کیږی اویوڅه سودهم دمیاشتی ورسره جمع کیږی، خو زما یې جمع کول اوسود اخیستل خوښ نه دی او دانه غواړم مګر په مقرره قاعده باندی می خبره نه ده قبوله سوی، دقاعدې مطابق هغه پیسی دملازمت په حالت کی ملاویدی هم نه سی او دملازمت دنه کولو په صورت کی هغه ټولی دسود سره یوځای

---

(١). لوکان الدین علی مقر ملیٔ (الی قوله) فوصل الی ملکه لزم زکات مامضی (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٦ و ٢٢٧). ظفیر

وصولیږی داصل اودسود څه تشریح او فرق نسته، په دی صورت کی په مجموعه پیسو دبینك کی زکات اداء کول په کاردی اوکه نه دی؟ نو دشریعت په رڼا کی ماته په دی باره کی څه حکم دی؟

جواب: څه چی وصول سوی په دی کی دی دسود په اندازه روپی صدقه سی ځکه چی (په روپو کی فرق متعذر [1] دی). اوزکات وروسته دوصولولو څخه لازم دی ددی وخت څخه دی دزکات حساب وکړل سی دکم وخت څخه چی دغه وضع سوی روپی دنصاب مقدار ته ورسیږی. فقط والله اعلم کتبه عزیز الرحمٰن عفی عنه مفتی مدرسه عربیه دیوبند

دپراوډنټ فنډ زکات اودهغه حقیقت: **سوال**:(٢٢٨)په بعضی انګلیسی وظیفوکی دپراوډنت فنډ یوه تګلاره جاری ده پراوډنټ فنډ هغه دی چی دنوکرانو له تنخواه څخه یوه اندازه هره میاشت ګرځول کیږی، دا رقم یوځای سی، اوپه خپله وظیفه کار یې دوظیفې پرېښوولو پرمهال، یا دمړینی په صورت کی دهغه وارثان ترلاسه کوی، په دې سوال کی یوازی دبریلوی کالج بحث دی، چی دهغه له پیله راهیسی دا تګلاه وه چی که ملازم وغواړی نوپنځه په سلو کی له خپلی تنخواه څخه په پراوډنټ فنډ کی جمع کولای سی، لیکن کله چی ځینو نوکرانو پر قانون باندی په اعتراض کولو سره ټوله تنخواه پوره غوښتله ، نودکالج منتظمه کمیټی دذکر سوی قانون پرځای خبره اجباری کړه، چی دهغه له مخی دهر نوکر څخه میاشتنی رقم ګرځول کیږی او دا اختیار نسته چی کله هم دملازمت په حالت کی دملازمت پرېښودلو یا دمړینی له صورت څخه پرته په بل صورت کی دا روپی وغواړی، دا مجری سوی روپی وخت په وخت د (اله آباد) بینك ته دهر نوکر په نامه باندی لیږل کیږی، دمجری سوی رقم شپږ میاشتنی یا کلنی شمېره لیکل کیږی، او دهغه منافع په دوهمه خانه کی لیکل کیږی، اوپه دریمه خانه کی دمجرا سوی رقم په برابر بل رقم لیکل کیږی ، دحکومتی منتظمی له لوری دا ځانګړی عطیه دکالج دنوکر لپاره مخکی هم وه اوپه راتلونکی کی به هم وی، یعنی دنوکری پرېښوولو پر مهال نوکر ته دمجموعه دریو رقمونو دحصول قانون دی، لیکن دتنخواه څخه دمجری سوی رقم دورکړی وعده په هرډول پرېښوولو سره وه او ده ، اودخپلی عطیې درقم له ورکړی سره کمیټی دا خبره شرط ګرځولی ده چی دپرېښودلو په مهال به نوکر لومړی دکمیټی له لوری رزیلوشن ټاکی ، چی آیا دې نوکر ته دعطیې رقم ورکړل سی اوکه نه؟ دحکم کولو په وخت مذکوره عطیه ملازم ته ورکول کیږی غیر ددی څخه نه، دغه طریقه دپنشن سره

(١). په رجسټر کی په دې ځای کی عبارت داډول درج دی (ځکه چی هغه سمندر دی) ددې عبارت څخه څه مطلب په فکر کی نه راتلی، ددې وجه څخه وروسته تراستصواب دقوسونو په مینځ کی څه توری زیات کړل سول.

مشابهت لری چې دبوډا کیدو یا دوظیفې دپرېښودو په وخت ملازم ته امداد ورکوی او ورسره دیوډول فشار اوطمع ورکولو صورت هم دی او دپروفیسرانو اودکالج دمعلمانو دترغیب دپاره هم دی چې وفاداروی دحکومت سره چې هغه روپۍ دتنخوا دجزء په شکل یې جمع کوی اضافه رقم گرځول کیږی او زرگونو ته یې رسوی او دکمیټې په اختیار او قبضه کې وی اوکه وفادار جوړ نه سی نوددغه روپو څخه یې لاس باسی بالجمله داگست په دوهمه کال ۱۹۱۵ م یو پروفیسر دمبلغ رقم یوزر اوه سوه اوشپږ پنځوس ۱۷۵۴ روپۍ اوڅوارلس ۱۴ آنې اویوه ۱ پائی. ددری واړو مجموعه رقمونو یعنې مجرا سوی رقم دتنخواه مبلغ شپږ سوه نوی ۶۹۰ روپۍ، دمذکوره منافعو سره تعداد دوه سوه اته ویشت روپۍ ۲۲۸ لس آنې ۱۰ اته ۸ پایی، عطیه رقم دکمیټې دطرف څخه مساوی رقم اول تعداد یې شپږ سوه ۶۹۰ نوی روپۍ، دالله ﷻ په فضل ورکول سوی او روپۍ دپروفیسر لاس ته راغلی نواوس پوښتنه داده چې آیا پردی رقم باندی دحولان حول څخه وروسته زکات دده په ذمه لازم دی اوکه نه دتیرو کلونو زکات باندی هم واجب دی؟

جواب: ددری واړو رقمونو دوصولولو څخه وروسته په حولان حول باندی زکات ورکول واجبیږی اودتیرو سوو کلونو زکات نه باندی واجبیږی، دمنافع پررقم او دعطیه پررقم باندی خوعدم وجوب دزکات ظاهر دی چې تراوسه په ملك کې دمزکی نسته او دمجرا سوی رقم هم همدا حکم دی ځکه چې شان مصادره موجود دی اواجبار ددی دلیل دی او په معروض دسقوط کې ددی کیدل مستبعد نه دی. والاصل فیه حدیث علی لا زكاة في مال الضمار (درمختار) قوله: حديث علي كذا عزاه في الهداية إلى علي وليس بمعروف، وإنما ذكره سبط ابن الجوزي في آثار الانصاف عن عثمان وابن عمر، كذا في شرح النقاية لمنلا علي القاري رحمه الله. شامی [1]. فقط

دایصال ثواب دپاره دصدقه جاریه ښه صورت څه دی؟ سوال: (۲۲۹) یوسړی دوه سوه روپۍ دخپلو مور اوپلار مرحومینو دگناه دمعاف کیدو دپاره په دوام داره توگه یوصورت جوړ کړی اودالله ﷻ په لاره کې یې ورکول غواړی نواحسن صورت ددی دمصرفولو دپاره (کم یو) اوڅه ډول دی؟

جواب: دایصال ثواب دپاره دصدقه جاریه ښه صورت دادی چې همیشه ورته ثواب ورسیږی، ددی صورت دادی چې په مذکوره روپو باندی دینی کتابونه، حدیث، فقه، تفسیر واخلی اودینی مدرسی ته یې یوسی چې نفع یې ډیره لویه ده، اویادی په مذکوره روپو باندی یوجائیداد واخلی اووقف دی کړی اوددغه آمدنی دی یوی دینی مدرسی ته

---

[1]. ردالمحتار کتاب الزکوٰة ج۲ ص ۱۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۷۰. ظفیر

اومسكينو طالبانو اويتيمانو ته اوغريبو خپلوانو ته ورتقسيم كړي چې دومره فلانی ته اودومره فلانی ته دی وركول سی په حديث پاك دی چې رسول الله ﷺ فرمايلی دی چې: اذا مات الانسان انقطع عنه عمله الا من صدقة جارية او علم ينتفع به او ولد صالح يدعو له. رواه مسلم ([1]).

ددی حديث پاك څخه معلومه سوه چې ددی په اعانت كی چې څه مصرف سوی دی هغه هم صدقه جاريه ده او ثواب يې هميشه متوفی ته رسيږی.

* * *

كتاب الصوم

اول باب

دروژې نيت، دروژې قسمونه او ددی حيثيت

الحمدلله وكفیٰ وسلام علیٰ عباده الذين اصطفیٰ !

دروژې نيت: **سوال**: (١) زيد سهار بيده سو نژدی ١١ يا ١٢ بجی يې سترګی خلاصی كړی نو ايادی روژه ساتلی سی اوكه نه؟

جواب: درمضان المبارك دروژی نيت يادنفلی روژی نيت په ورځ كی دنصف نهار شرعی څخه مخكی صحيح دی يعنی تر ١١ بجو پوری تقريبًا صحيح دی ([2]). فقط

په رمضان كی دعذرڅخه غير دخوراك كوونكی مثال: **سوال**: (٢) يومولوی صاحب يوسړی په رمضان كی بی دشرعی عذر څخه پرخوراك وليدی نوورته يې وويل چې خنزير خور دی اوپه روژه كی خوراك حرام دی او څوك چې يې خوراك كوونكی وليدی هغه وويل چې خوب وړی وم، دا تركمه ځايه صحيح ده، په رمضان كی بغير دشرعی عذر څخه خوراك حرام دی اوكبيره ګناه ده؟

جواب: بلا عذره په رمضان كی خوراك او څنباك دوږځي بی له شكه قطعی حرام دی او خوراك كوونكی دحرامو مرتكب دی اوكبيره ګناه ده اوتشبيهًا ده ته خنزير خور ويل صحيح دی يعنی څنګه چې خنزير خور حرام خور اودحرامو مرتكب دی اوكبيره ګناه ده

([1]). مشكوٰة شريف كتاب العلم فصل اول ص ٣٢. ظفير

([2]). فيصح اداء صوم رمضان الخ من الليل الخ الی الضحوة الكبری لا بعدها (درمختار) قوله: (إلی الضحوة الكبری) المراد بها نصف النهار الشرعي، والنهار الشرعي من استطارة الضوء في أفق المشرق إلی غروب الشمس، والغاية غير داخلة في المغيا (ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٧٧) دنيت څخه مراد دزړه اراده ده اوپه ژبه يې اداء كول ضروری نه دی ددی وجه څخه كه دشپی اراده وكړی اوبيده سی نوبيا هيڅ ضرورت نسته. ظفير

همدارکم په رمضان کی دورځی بی دعذره خوراك کوونکی حرام خور اودفعل حرام مرتکب دی اوکبیره گناه ده او دخنزیر خور په شان دی (١). فقط

مسافر، مریض که په رمضان کی دنفلو په نیت روژه ونیسی نو دا فرضی سوه او که نفلی؟

سوال: (٣) مسافر یا مریض که په رمضان کی دنفلو په نیت روژه نیسی نونفلی سوه او که فرضی؟

جواب: په شامی کی دی: وحاصله ان المریض والمسافر لو نویا واجباً اخر وقع عنه ولو نویا نفلا او اطلقا فعن رمضان الخ (٢) ، (ددی عبارت څخه معلومه سوه چی که چیری مریض اومسافر دنفلو نیت وکړی نو درمضان روژه به سی اوکه دواجب اخر نیت وکړی نو واجب به سی) وفیه تفصیل واختلاف (٣). فقط

دپیشمنی څخه وروسته خوراک جائزنه دی: سوال: (۴\١) زید وایې چی ناخبره خلگ چی دپیشلمی وخت نه پیژنی ترڅو چی یې اذان نه وی اوریدلی ترهغه پوری خوراك کوی، او که موذن په اذان کی تاخیر وکی نوگناه دمؤذن ده؟

دصبح صادق څخه وروسته خوراک جائزنه دی: سوال: (۵\٢) زید وایې چی دصحیح بخاری په حدیث کی دی چی دیوه سړی په لاس کی څه خوراك موجود وو چی صبح صادق سو نوهغه ددی لاس خوراك کولی سی، ددی څه مطلب دی؟

جواب: ١\ : دصبح صادق څخه وروسته خوراك اوچښاك جائزنه دی که اذان سوی وی او که نه وی سوی په دی باره کی زیات احتیاط په کاردی (۴).

٢\ : ددی مطلب داهم کیدی سی چی دصبح صادق وجود یقینی نه دی (۵). فقط

دعرفی په ورځ روژه نیول څنکه دی؟ سوال: (٦\١) په تاریخ دنهم دذی الحجی دعرفی په ورځ روژه نیول څنگه دی؟

جواب: مستحب دی اوپه دې کی ډیر ثواب دی. (٦)

دنفلی او نذری روژې نیت کله وکی ؟ سوال : (٧) په نفلی روژه یا نذری روژه کی څه وخت

---

(١). اعلم ان صوم رمضان فریضة لقوله تعالی کتب علیکم الصیام، وعلی فرضیته انعقد الاجماع ولهذا یکفر جاحده (هدایه کتاب الصوم ج١ ص ١٩٣). ظفیر

(٢). ردالمحتار للشامی کتاب الصوم ج١ ص١١٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٧٨. ظفیر

(٣). وگوری ردالمحتار ایضا ج٢ ص ١١٧ ، ط. س. ج٢ ص ٣٧٨. ظفیر

(۴). وشرعا امساك عن المفطرات الاٰتیة حقیقة اوحکما الخ فی وقت مخصوص وهواليوم (درمختار) ای اليوم الشرعی من طلوع الفجر الی الغروب (ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٧١). ظفیر

(۵). اوتسحر اوافطر یظن اليوم الخ لیلا والحال ان الفجر طالع والشمس لم تغرب الخ قضی فی الصور کلها فقط (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١۴٣ ، ط. س. ج٢ ص ۴٠۵). ظفیر =

باید نیت وکړی ؟

جواب: دنفلی روژی او دنذر معین او درمضان المبارك دروژو نیت به دشپی څخه کوی اوکه سهار ترشرعی نصف النهار پوری صحیح دی اوپه باقی روژوکی دشپی څخه دنیت کول ضروری دی ([1]). فقط

<u>دنذر په روژو کی چی دقضایي روژی نیت وکړی نوڅه حکم دی؟</u> سوال: (٨) په یوه سړی باندی څه قضایی روژی دی اویوڅه ورباندی نذری روژی دی اول یې په قضایی روژو شرع وکړه کله چی هغه ختمی سوی نونذری یې ونیولی خو دشپی یې دنذری روژه نیت هیرسو او دقضایي روژو نیت یې وکی، دورځی ورته یاد سول نوآیا دنذر روژه اداء سوه اوکه نه؟

جواب: په معین نذر کی دورځی تردوو بجو پوری نیت کولی سی ([2]) اوپه نذر مطلق کی یعنی په هغه کی چی تاریخ اوورځ مقرره نه وی دشپی څخه نیت کول ضروری دی نوپه صورت مسئوله کی که چیری دنذر مطلق روژه وی نو دقضاپه نیت باندی نه اداء کیږی او دنذر روژه به بیا نیسی ([3]).

<u>یوازی دجمعی روژه نیول څنګه دی؟</u> سوال: (٩) دجمعی یوازی روژه نیول څنګه دی صحیح دی اوکه نه؟ په خاص کر چی دعرفی ذی الحجه جمعه وی نو روژه ونیسی اوکه نه؟ یو واعظ دجمعی دورځی روژه نیول حرام ښوولی دی نوواعظ صحیح ویلی دی اوکه غلط؟

جواب: دواعظ خبره صحیح نه ده. دجمعی روژه مستحب ده بعض فقهاوو په دی فکر چی دروژی دضعف په وجه په فرضی لمانځه کی څه خلل واقع نسی، منع یې کړی ده، اوکه نه نو ددی په استحباب کی هیڅ شك نسته اوفقهاوو احتیاطاً فرمایلی دی چی یوه روژه

= ([2]). صیام یوم عرفة احتسب علی الله ان یکفر السنة التی قبله والسنة التی بعده. رواه مسلم (مشکوٰة شریف باب صیام القطوع ص ١٧٩) والمندوب کایام البیض علی کل شهر الخ وعرفة ولولحاج لم یضعفه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١١٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٧٥). ظفیر

([1]). فیصح اداء صوم رمضان والنذر المعین والنفل بنیة من اللیل ؒ الی الضحوة الکبری لا بعدها ؒ والشرط للباقی من الصیام قران النیة للفجر ولو حکما وهو تبییت النیة الضروریة وتعیینها لعدم تعیین الوقت الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج٢ ص ١١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٧٧). ظفیر

([2]). فیصح اداء صوم رمضان والنذر المعین والنفل بنیة من اللیل فلا تصح قبل الغروب ولاعنده الی الضحوة الکبرٰی لابعدها الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١١٢ ، ط. س. ج٢ ص٣٧٧). ظ

([3]). والشرط للباقی من الصیام ای من انواعه الخ وهو قضاء رمضان ولنذر المطلق الخ قران النیة للفجر ولو حکما وهو تبییت النیة الخ (ایضا ط. س. ج٢ ص ٣٨٠). ظفیر

دی ددې څخه مخکی اویا وروسته ونیسی اوکه جلا یې ونیسي نوڅه حرج پکښې نسته. قال الشامی فی کتاب الصوم فکان الاحتیاط ان یضم الیه یومًا اخر (الی ان قال) لان فیه وظائف فلعله اذا صام ضعف عن فعلها [1]. فقط

<u>دعرفی روژه حاجیان ولی نه نیسي</u>: سوال: (۱۰\۱۰) دذی الحجی په میاشت کی دعرفی په ورځ یعنی په نهم تاریخ چی دروژی نیولو زیات ثواب دی نوپه دغه ورځ حاجیان خاص په عرفات باندی وی ولی روژه نه نیسی ددی څه وجه ده؟

جواب: دسفر په وجه اوددی وجه څخه چی دروژی نیولو په سبب دحج دیوڅه افعالو په اداء کولو کی دضعف په وجه خلل واقع نسی [2]. والله اعلم (که چیری حاجی ته دعرفات په فرائضو کی څه خلل نه وی یعنی په اداء کولوکی اوهغه کمزوری محسوس نه کړی نو هغه هم زوژه نیولی سی لکه څنګه چی دحاشیی دعبارت څخه ښکاره ده. ظفیر).

❊ ❊ ❊

دوهم باب

دمیاشتی لیدل، دمطالعو اختلاف او دنجومیانو قول اوداسی نور

<u>درمضان المبارک دمیاشتی شاهدی که یوسړی اودری ښځی ورکړی نوددی څه حکم دی؟</u>

سوال: (۱۱\۱۱) درمضان ۲۹ دخیر پور په ښار کی دګردوغبار داملہ عوامو میاشت ونه لیدله دمانښام دلمانځه څخه وروسته حافظ عبدالله بخش اودری ښځو شاهدی ورکړه چی موږ یقیناً میاشت لیدلی ده، الله بخش وایی چی مانورو خلګوته رږغ وکی لیکن هیڅوک رانغلل تردی چی میاشت بادل ته راغله دهغه حال دمحلی والاوو څخه ترلاسه سو، ټولو داوویل چی زموږدده څخه هیڅ شکایت نسته نوپه دی صورت کی دده شاهدی ته اعتبار ورکول کیږی اودافطار حکم ورکول جائزدی اوکه نه؟

<u>په موجوده دورکی دعدالت تعریف</u>: سوال: (۱۲\۱۲) دعدالت تفسیر چی زموږ په دور کی معتبر اومعمول بها دی وې لیکی؟

<u>په فقه کی دعدالت تعریف</u> : سوال : (۱۳\۱۳) دفقهی په کتابونو کی یې د عدالت تعریف

---

[1]. ردالمحتار للشامی کتاب الصوم ج۲ ص ۱۱۴) پوره عبارت داسی دی: والمندوب کایام البیض عن کل شهر ویوم الجمعة ولو منفردا وعرفة ولو لحاج لم یضعفه (درمختار) قوله: (ویوم الجمعة ولو منفردا) صرح به في النهر وکذا في البحر، فقال: إن صومه بانفراده مستحب عند العامة کالاثنین والخمیس ۞ ولا بأس بصوم یوم الجمعة عند أبي حنیفة ومحمد لما روي، عن ابن عباس أنه کان یصومه ولا یفطر ۞ (ردالمحتار ایضا ط. س. ج۲ ص **۳۷۵**). ظفیر

[2]. والمندوب کایام البیض الخ وعرفة ولولحاج لم یضعفه (درمختار) صفة لحاج ای ان کان لایضعفه عن الوقوف بعرفات ولایحل بالدعواة، محیط، فلو اضعفه کره (ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۱۴ ، ط. س. ج۲ ص **۳۷۵**). ظ

داسی لیکلی دی. ملکة تحمل علی ملازمة التقوٰی والمروة، والشرط ادناها ترك الکبائر الخ. لیکن که په دی زمانه کی داسی څوك پیدانه سو نوپه کمو معاملاتوکی چی داشرط اینبوول سوی ددی فیصله دی څنګه وسی؟

دزماني په اختلاف سره دعدالت په تفسير کی فرق راځی اوکه نه؟ سوال: (١۴١۴١) دزمانی په اختلاف باندی دعدالت په تفسیر کی فرق راتلی سی اوکه نه؟

جواب: ١١ : چی کله هغه دوه کسان چی دمیاشت لیدونکی دی لمونځ ګذاره وی اوپرهیز ګاره وی او فسق او فجور ور نه راهزن نه وی نو دهغوی په شاهدی باندی افطار کول صحیح دی (١). فقط

٢١. ٣. ۴. دعدل تفسیر داهم دی چی فقهاوو لیکلی دی اوهمدا معتبردی اودعصر داختلاف دوجی څخه دعدل په تعریف کی څه هیڅ فرق نه پریوزی په هغه ځای کی چی عدالت دفقهاوو شرط دی هلته ددغه ډول عدالت ضرورت دی اوپه کم ځای کی چی دښځو شاهدی هم کافی ده څنګه چی دروژی په نیولو کی او دروژی په اثبات کی هلته دعدالت دثبوت ضرورت نسته، مګر خو چی فسق یې هم ښکاره نه وی. کذا فی الشامی لان المراد بالعدل من ثبت عدالة ولا ثبوت فی المستور اما مع تبین الفسق فلا قابل به عندنا الخ (٢). فقط

څلور یادوه کسان که ووایی چی موږ په فلانکی ښار کی واوریدل چی میاشت ختلی ده، ددی څه حکم دی؟ سوال: (١۵١) دتار خبر دهلال درمضان یا داختر په باره کی معتبردی اوکه نه؟ یا یومعتبر سړی یوځای ولاړی، اوکه ووایی چی په فلانی ښار کی میاشت په ٢٩ ولیدل سوه موږ دهغه ځای داوسیدونکو څخه واوریدل، اودوه کسان چی دلمانځه او دروژی پابیند نه دی دمیاشتی شاهدی ورکړی نومعتبردی اوکه نه؟

جواب: دتار خبر شرعًا داعتبار وړنه دی په دی باندی روژه نیول اواختر کول صحیح نه دی اوکه دوو کسانو وویل چی په فلانی ښار کی میاشت لیدل سویده لیکن دلیدونکی څخه یی نه دی اوریدلی هم معتبر نه دی (٣). اودبی لمانځه شاهدی په دی دواړو رمضان اوپه اختر کی قابل دقبول نه دی (۴).

---

(١). ردالمحتارکتاب الصوم ج٢ ص ١٢٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨۵. ظفیر

(٢). وشرط للفطر مع العلة والعدالة نصاب الشهادة ولفظ اشهد وعدم الحد فی قذف الخ ولو کانوا ببلدة لاحاکم فیها صاموا بقول ثقة وافطروا باخبار عدلین مع العلة لضرورة (درمختار) قوله نصاب الشهادة ای علی الاموال وهو رجلان اورجل وامرأتان (ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١١۴ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٢). ظفیر

(٣). ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢۴ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٢. ظفیر

دمیاشتی پرلیدلو والا باندی جرح کول څنګه دی؟ سوال: (١٦) دمیاشتی لیدونکی والا خبر، هم دارنګه ددی دشاهدی ورکوونکو والا دشاهدی دپاره دمخبر او دمشاهدینو یوازی عقیدی اوعملی حالت دپام کولو وړ دی چی هغه غیر مسلم اوفاسق نه وی کافی دی، که چا هغه ته دغه ډول خبری وویلی چی دکم څخه دهغه ذلت اوشکستګی دزړه حاصلیږی مثلا داویل چی ایا ستا بنائی ډیره تیزه وه؟ ایا ستا څلور سترګی وی؟ او درؤیت دکیفیت په اړه پوښتنه کول چی میاشت غټه وه اوکه نوی وه؟ یا ولاړه او لاندی وه او دواړه ګنجیان یې برابر وه اوکه نه یو ولاړ او یو پروت اوکم طرف ته ولاړ وو دا ضروری ده اوکه نه؟ او داویل جائز دی اوکه نه؟

جواب: دسپوږمی لیدونکی دشاهدی اوخبر دمعتبر کیدلو دپاره داکافی ده چی هغه عادل اوثقه وی یافاسق بین الفسق نه وی دباقی امورو په تحقیق کی ضرورت نسته ([1]). او دمسلمان ذلیل کول اوزړه ماتول داسی خبری کول صحیح نه دی.

دفساقو او دفجارو شاهدی قبلول څنګه دی؟ سوال: (١٧) په ٢٩ درمضان مبارك میاشت دلته نه لیدل کیږی صرف ددوو څلورو کسانو فساقو چی نه لمونځ کوی اونه روژه نیسی هغوی شاهدی ورکړه چی موږ میاشت ولیده لیکن داچی دشریعت مبارکة دمخی دشاهدی دورکولو قابل نه دی، ددی وجه څخه یی شاهدی قبوله نه ده لهذا روژه دی په ٣٠ تاریخ هم ونیول سی وروسته بیا خبر ترلاسه سو چی سپوږمی د٢٩ ورځو وه اوس دغه خلګ اوبعض باسواده خلګ داهم وایی چی داختر په ورځ شیطان روژه نیسی ځکه چی چاروژه ونیوله هغه هم دشیطان ملګری سو اوګنهګار سو اوس ددی امورو پیداکول په کاردی چی ایا دداسی کسانو شاهدی معتبره ده او چاچی روژه ونه نیوله هغوی ته څه ثواب ورکول سو؟ او آیا چا چی روژه ونیوله هغوی واقعی دشیطان په ډله کی سوه؟

جواب: دغیر معتبر کیدو په وجه چی کمو خلګو درمضان ددیرشم روژه ونیوله نو هغوی حق کار وکی اودسنتو پیروی یی وکړه، معترض چی پرسنت طریقه اعتراض کوی ګمراه دی ترڅو پوری چی شرعی حجت پوره نه سی داعتبار وړنه دی اوداډول شاهدی دفساقو اودفجارو شاهدی په هیڅ ډول داعتبار وړنه ده اودداسی معلومو فجارو اوفساقو دی هیڅ وخت خبره وانه وریدل سی روژه نیوونکی دسنتو پیروان دی اوبی دمعتبره حجته

= ([4]). فیلزم اهل المشرق برؤیة المغرب اذا ثبت بطریق موجب کمامر (درمختار) قوله بطریق موجب کان یحتمل اثنان الشهادة اویشهد علی حکم القاضی اویستفیض الخبر بخلاف اذا اخبر ان اهل بلدة کذا راوه لانه حکایة (ردالمحتار کتاب الصوم قبیل باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٤). ظفیر

([1]). لافاسق اتفاقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢٤ ، ط.س ج٢ ص ٣٨٥). ظفیر

چي چاروژه ونه نيوله ګنهګار دی که څه هم وروسته دليدل کيدلو په وجه مياشت ۲۹ سو خو په هغه باندی قضا اوکفاره نه راځی (¹). فقط

دلا عبرة لاختلاف المطالع مطلب مطلب: **سوال**: (۱۸) دلا عبرة لاختلاف المطالع څه مطلب دی؟

جواب: مطلب يی دادی چی څنګه چی په طريقه موجبه يعنی دمعتبری شاهدی څخه ددوهم ښار دمياشتی ليدل ثابت سی نودهغه ځای پرخلګو هم همدغه حکم دی؟

درؤيت هلال په سلسله کی صرف خط کافی دی اوکه نه؟ سوال: (۱۹) دحضرت مولانا عبدالرحيم صاحب رای پوری دخط نقل:

دطرفه داحقر عبدالرحيم څخه السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته:

په دی وخت کی دتصديق باعث داخبره ده چی دلته تراوسه پوری هيڅ خبر دمبارکی مياشتی دهلال درؤيت بغير دحکيم جميل الدين صاحب دخط څخه پرته نسته، له همدی امله تشويش دی چی آيا بايد څه وکړل سی؟ دحکيم صاحب دليك مضمون دادی چی دلته يومسلمان چی دلمانځه او دروژی پابند مستور الحال زما په مخ کی ددی مضمون شاهدی ورکړه چی په شنبه ۲۹ دشعبان کی ماپخپله درمضان المبارك مياشت وليدله او دلته زما يوی ښځی هم وليدله .

دمولانا عبدالغفار صاحب خط چی دحضرت مولانا ګنګوهی صاحب شاګرد دی اويو با عمله عالم دی اودګور کهپور څخه راغلی دی اويقين دی چی دا دهغه خط دی چی په هغه کی دسپوږمی په هکله دامضمون وو. په ګور کهپور کی يوه لمونځ ګذاره مسلمان دشنبی په ورځ درؤيت هلال شاهدی ورکړه دشرع په قاعده باندی يی شاهدی ومنله او اعلان وسو، اکثرو خلګو ديکشنبی ورځ روژه ونيوله اوشروع يی وکړه، زماپه نزد دواړه شاهدی معتبردی، دا دحکيم صاحب مضمون دی، ددی څخه علاوه بل هيڅ خبر نسته، اوس موږ ته څه کول په کاردی، جواب دی زر مرحمت سی؟

جواب: دطرفه څخه دبندهٔ احقر عزيز الرحمٰن عفی عنه:

بخدمت عالی، فيض درجت مخدوم محترم عالم حضرت مولانا عبد الرحيم صاحب مدّ فيضه، دمسنونه سلام دهديی کولو څخه وروسته عرض دی چی خط پرون دشنبی په ورځ ۲۱ درمضان المبارك راورسيدی دعزت باعث وګرځيدی، درؤيت هلال دماه مبارك په اړه چی کم خبر دجناب مولوی حکيم جميل الدين صاحب په واسطه معلوم سويدی هغه دجناب لپاره دعمل موجب نه دی دا اصل ستاسو فقهاوو مسلم دی چی داهل مشرق

(¹). خبر عدل اومستود الخ لا فاسق اتفاقا (درمختار) لان المراد بالعدل من ثبت عدالته ولاثبوت فی المستور اما مع تبين الفسق فلا قائل به عندنا (ردالمحتار كتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۴، ط. س. ج۲ ص ۳۸۵). ظفير

رؤیت داهل مغرب دپاره لازم اوثابتیږی لکن په دی شرط چی داهل مشرق رؤیت اهل مغرب ته په یوطریقی سره ملزم او دموجب سره ورسوی، اوعلامه شامیؒ ددی طریقی دموجب عمل په درو طریقو سره تفسیر اوشرح کړی ده، په دی درو واړو طریقو سره په موجوده صورت کی هیڅ طریقه محققه نه ده، عبارت ددرمختار اودرد المحتار دادی:
فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق موجب (در مختار) قوله: بطریق موجب کان یتحمل اثنان الشهادة او یشهد علی حکم القاضي او یستفیض الخبر بخلاف ما اذا اخبر ان اهل کذا رأوه لأنه حکایة الخ (۱). ردالمحتار.
داول اوددوهم نفی ددی صورت ښکاره دی اوهمدا رکم ددریم صورت منفی کیدل ددی څخه هم اظهر دی ځکه چی داستفاضی په طریقی سره اوپه تواتر سره تر جنابه پوری او ترموږ پوری دغه خبر درؤیت نه دی رسیدلی بس اوس صرف اخبار ددی امردی چی په فلانی ښار کی درؤیت شاهدی تیره سویده چی موصوف علامه موجب دعمل نه دی ګرځولی اوترڅو پوری چی طریقه موجبه دثبوت رؤیت ونسی نوتر هغه پوری وړاندی عمل درست نه دی، حاصل داچی تراوسه پوری دلته هم داسی کم خبرنه دی رسیدلی چی شرعًا مفید دپاره دحکم دصوم موږ لره سی. دغه خبر چی دحکیم صاحب دی ددی څخه ښه یا ددی سره څه مساوی هم څه خبر نسته آئنده چی دحضرت حکیم صاحب په نزد راجح سوله ددغه څخه موخبر کړی. دجناب حکیم صاحب (۲) او دورور می مولوی حبیب الرحمٰن صاحب (۳) رایه هم دغه ده. تاریخ د ۲۱ رمضان المبارك سنه ۱۳۳۴ھ ق. احقر عزیز الرحمٰن عفی عنه.

دخط په ذریعه درؤیت هلال منل جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۰) نقل ددوهم خط دمولانا عبدالرحیم صاحب رای پوری.
المخدوم المکرم جناب حضرت مولانا مولوی عزیز الرحمٰن صاحب مدّ فیوضهم داحقر عبدالرحیم دخوا څخه السلام علیکم ورحمة الله.
یوه عریضه چی په لفافه کی بنده وه ما ددی مضمون څخه مخکی ددی مضمون متعلق ستاسی خدمت جناب ته درلیږلی وه، غالبًا در رسیدلی به وی، مګر په دی کی یوازی دمولوی جمیل الدین صاحب دخط مضمون وو، نن دادوهمه عریضه دحکیم جمیل الدین صاحب دخط سره او والانامه دحضرت مولانا اشرف علی صاحب ارسال خدمت ده، دوی

(۱). ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی اختلاف المطالع ج۲ ص ۱۳۲، ط. س. ج۲ ص ۳۹۳. ظفیر
(۲). دده مراد غالبا مولانا حکییم محمد حسن صاحب دی چی دحضرت مولانا شیخ الهند صاحب ورور دی.
(۳). دمفتی علامه ؒ ورور مولانا حبیب عثمانی سابق نائب دمهتمم دیوبند وو.

دواړه جنابان دی ملاحظه کړی اوډاګ په واپسی دی موږ مطلع کړی اودغه دواړه خطونه دی واپس کړی، ددی دارسال څخه مقصد دادی چی دادواړه شهادتونه جناب تسلیم کړی دی اوکه نه؟ بناء پرتسلیم که په ۳۰ درمضان باندی رؤیت هلال ونه سو نو ددی دحساب څخه اختر وسی اوکه نه؟ درمضان کیدل خو ددی څخه مسلم دی اوپه دی کی دڅا کلام نسته، باقی خبره په عیدکی ده چی څه کول په کاردی لهذا جناب دغه عریضه ملاحظه کړی که رایه وی نوموږ دی فوراً خبر کړی سخت منتظر یو دپنجشنبی څخه مخکی یا ترپنجشنبی پوری دی ددی جواب دلته راورسیږی ترڅو چی کمه رایه قرار لری دهغه څخه دجمعی په ورځ عوام خلګ خبر کړل سی.

جواب: حضرت مخدوم العالم مکرم ومحترم حضرت مولانا عبدالرحیم صاحب مدّ فیوضهم دمسنونه سلام دهدیی سره عرض دادی چی دلومړنی خط جواب ارسال خدمت بابرکت سویدی، پرون دوهم خط سره دخط دحکیم جمیل الدین صاحب سلمه او خط دمولانا حضرت مولانا اشرف علی صاحب سلمه راورسیدل ما اونورو موجودو حضراتو په غور سره وکتل، هم هغی رایی ته ورسیدلو کمه چی اول ښکاره سوی وه، زموږ دپاره دا خطونه حجت ملزم نه دی اوددی وجوه مخفی نه دی شهادت دغازی پور اوحکم دګور کهپور باقاعده نه دی نوبیا دا په نیت دسبب دثبوت درمضان زموږ په حق کی څه ډول تسلیم کړی دی اوبیا داختر حکم په دی باندی مرتب کول هم محل دبحث دی په هرحال که صدق دقرائنو او دداسی نورو خیال وسی نوغایه ددی (جواز دعمل) را وزی دغه وجوب اولزوم، بیاپه دغه حالت کی داختر اعلان ددی په حساب باندی کول مناسب نه دی الله ﷻ دی وکړی چی اختلاف پورته سوی وی اودفطر پرهلال باندی اتفاق سوی وی په ائنده کی چی عالی ارشاد دی اومبارکه رایه ده موږ ته اطلاع راکړی. والسلام

راقم عزیز الرحمٰن عفٰی عنه

په رؤیت هلال کی دبرقی تار خبر معتبر دی اوکه نه؟ سوال: (۲۱) دبرقی تار په ذریعه دهلال رؤیت معتبردی اوکه نه؟

جواب: دبرقی تار په ذریعه خبر درؤیت هلال په باره کی شرعًا معتبر نه دی په دی ډول خبرونو کی دروژی افطار درست نه دی (١). فقط

که دوریځی دوجه څخه په ۲۹ دبرات میاشت ونه لیدل سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۲) دوریځی دوجه څخه که په ۲۹ دشعبان میاشت ونه لیدل سی نوروژه صحیح ده اوکه نه؟

---

(١). فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق موجب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی اختلاف المطالع ج۲ ص ۱۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۴). ظفیر

۲\. که دشك کولو په حالت کی قصداً روژه ونیول سی نوګناه ده که ثواب؟
جواب: ۱\ : صحیح نه دی. کما فی الدرالمختار ولا یصام یوم الشك الخ قال ﷺ من صام یوم الشك فقد عصا ابا القاسم ﷺ (١).
۲\ : ګناه ده.

دهندو په اوبو باندی روژه ماتول صحیح دی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۳\) دهندو په اوبو باندی یوه روژه دار سړی دروژی افطار وکړی یوه سړی ویلی دی چی روژه خرابیږی دغه اوبه حرامی دی اوهندو خلګ کافران دی؟
جواب: دغه روژه دارچی دهندو په اوبو یی دروژی افطار وکی، حلال اوجائزدی اودجګړه مار جګړه غلطه ده نو ورته په کارنه ده، دا ددوی ناخبری ده دبی علمی خبره ده.

ددوو عادلو کسانو دشاهدی سره یی روژه ونیوله نودیرش دی پوره کړی اوبیا دی افطار وکړی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۴\) ددوو عادلو کسانو په شاهدی سره یی روژه ونیوله درمضان دمیاشتی، نو وروسته ددیرش ورځو څخه افطار واجب دی اوکه جائز او ددغه عبارت ددر مختار چی: بعد صوم ثلاثین بقول عدلین حل الفطر، مفاد وجوب دی اوکه جواز؟
جواب: کله چی درمضان المبارك روژه ددوو عدلینو په شاهدی باندی ونیول سی اوپه دیرشم تاریخ باندی وریځ اوغبار دی، نوافطار ددیرشو ورځو وروسته واجب دی. اود حل الفطر مفاد په دی صورت کی وجوب دی. قال فی الشامی والحاصل انه اذا غم شوال افطروا اتفاقا اذا ثبت رمضان بشهادة عدلین فی الغیم اوالضحو الخ (٢). اوپه درمختار کی ددی عبارت څخه مخکی دی. جاز لهذا القاضی ان یحکم بشهادتهما (٣)، په دی باندی ردالمحتار داتصریح فرمایلی ده چی: جاز. دوجوب منافی نه دی. قوله جاز الظاهر ان المراد بالجواز الصحة فلا ینافی الوجوب تامل (٤).

ثقه خلګو سپوږمی ولیدله نوبعضو خلګو روژه ونیوله اوبعضو ونه نیوله نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۵\) قلیله فرقه لیکن ثقه دپنجشنبی په ورځ هلال ولیدله او دورځی یی روژه درلوده نو ټولو ددیرش ورځی څخه په یکشنبی اختر وکی، ددوهمی فرقی دشنبی په اوله ورځ روژه وه اوپه دوشنبی یی اختر وکی، تخطیه داولی فرقی چی دواړه وخته یی په رؤیت هلال

---

(١). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم مبحث فی صوم یوم الشك ج۲ ص ۱۱۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۱). ظفیر
(٢). ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۱. ظفیر
(٣). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۰. ظفیر
(٤). ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۰. ظفیر

باندی کارکړی دی کوی چی روژه اواختر ستاسی په دوو غلطیانو باندی دی، نوپه دی صورت کی ثواب څه شی دی؟ اوڅوك په خطا دی، اوحکم دیکشنبی دروژی وروستنی څه شی دی؟ اودهغه په مفطر اوله جمعه باندی قضاده اوکه نه؟

جواب: کله چی درمضان دهلال رؤیت دپنجشنبی په ورځ دثقاتو په رؤیت ثابت سی دیرش ورځی تهولی پوره کړی دیکشنبی په ورځ دی اختر وکړی داولی فرقې تخطیه روا نه ده ا ودوروستنی دا داسی چی رؤیت دپنجشنبی دهغوی په نزد ثابت سی روا نه دی او افطار داولی جمعی دهغوی په شان کی جائزنه دی. اوددی ورځی قضاء لازم ده.

لکن واضحه دی وی چی درؤیت ورځی ته اعتبار نسته مثلا که دجمعی په ورځ یی هلال لیدلی وی نودغه هلال دآئنده شپی دی، نه دتیری شپی (١) په دی صورت کی دجمعی په ورځ روژه اوله درسته نه ده بلکی دشنبی په ورځ به اول درمضان سی اوهمدارکم معروف حساب چی درجب څلورم اول درمضان المبارك وی مثلاً دغه حساب هم قابل دعمل او قابل داعتبار نه دی، لکه چی معلوم سوی وه چی دکشمیر په بعضو ځایونو کی دغه عمل اوامر هم محل دنزاع سوی دی له دی وجه څخه خوکلمی دهغه متعلق لیکل سوی دی. والسلام علی من اتبع الهدیٰ

په شهادت باندی دافطار حکم: **سوال**: (٢٢\) یومولوی صاحب چی مخامخ ورته څلور شاهدی ثابتی سوی چی پنجشنبه دیرشم درمضان دی په همدی بناء مولوی صاحب مذکور حکم ورکی چی دجمعی په ورځ اختر وکی اوکمو خلګو چی دپنج شنبی څخه دروژی ابتداء وکړه یوه روژه دی قضایی ونیسی زید ددی حکم مخالفت وکی، نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: ولو كانوا ببلدة لا حاكم فيها صاموا بقول ثقة، وأفطروا بإخبار عدلين مع العلة للضرورة الى ان قال وقبل بلا علة جمع عظيم يقع العلم الشرعي وهو غلبة الظن بخبرهم وهو مفوض إلى رأي الامام من غير تقدير بعدد على المذهب وعن الامام أنه يكتفى بشاهدين واختاره في البحر وصحح في الاقضية الاكتفاء بواحد إن جاء من خارج البلد أو كان على مكان مرتفع، واختاره ظهير الدين (٢) الخ. وقال فى الشامى واعتمده فى الفتاوىٰ الصغرىٰ ايضا وهوقول الطحاوى الخ (٣). **حاصل** داچی شامی دی قول ته ترجیح ورکړیده حاصل دادی چی که دقرائینو څخه دمظنون خبر صدق

(١). رؤيته بالنهار لليلة الاتية مطلقا (الدر المختار على هامش ردالمحتاركتاب الصوم مطلب فى رؤية الهلال نهاراً ج٢ ص ١٣٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢). ظفير

(٢). ايضا كتاب الصوم ج٢ ص ١٢٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٢. ظفير

(٣). ردالمحتار ايضا ص ١٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٨. ظفير

کیدی نوپه دی باندی هم عمل کولی سی. وغلبة الظن حجة موجبة للعمل کماصرحوا به شامی (١)، وقال قبله والظاهر انه یلزم القرٰی بسماع المدافع اورؤیة القنادیل من المصر لانه علامة ظاهرة تفید غلبة الظن الخ. (٢). فقط

دمیاشتی لیدل: **سوال**: (٢٧) درمضان المبارك دمیاشتی لیدل په کال ١٣٣٢هـ په هندوستان اوکشمیر کی دجمعی په ورځ دشنبی په شپه واقع سوه دشرعی مفتیانو پر هغه باندی فتوٰی ورکړیده مگر یوکوهستانی چی دمیاشتی لیدل مذکور دپنجشنبی په شپه ثابتوی په غیر ثقه اخبارو باندی وایی چی قول دحضرت علی ﷺ داسی دی چی جمعه فرض ده دفقه په مسائلو عمل ونه کړی څه رکم چی په فتوٰی دصدر په ٢٩ دصیام مطلع صاف وو اکثره خلگو میاشت نه ده لیدلی، البته ٣٠ روژی دیکشنبی په ورځ چی مطلع صاف وو عمومًا میاشت لیدل سویده اوشنبه یی اختر کړی، هغه فرقی چی جمعه یې ښوولی ده دهغه په لحاظ درؤیت هلال څخه ماسوا چه عامو مسلمانانو دیکشنبی په ورځ دجماعت یوه مفتی سوی فتوٰی دافطار ورکړه اواختر یی وکی لکه څنگه چی یوسړی په ملفوف سوی لیك باندی رالیږلی ده چی وایی چی دزوال څخه یی مخکی میاشت لیدلی ده، دیکشنبی ورځ په هم هغه وخت می اختر کی، په دی باب یوه قضاء دیکشنبی دورځی ده اوکه نه دکفاری مع القضاء فتوٰی ده؟ دهمدغه مفتی فتوٰی په دی باب کی نافذده اوکه نه؟ فقط ددغه شخص بیان دادی چی موږ دیکشنبی په ورځ مخکی دزوال څخه دغرمی په وخت میاشت ولیدله اوپه هغه مو اختر وکی اوموږ دمیاشت دلیدلو والا تقریبا شل کسان وو؟

جواب: په غیری معتبره اخبارو یا دورځی دمیاشتی لیدل او دتیری شپی دمیاشتی لیدل نه ثابتیږی نوپه دی دلائلو عمل کول اواعتماد کول چی ضعیف دی اودیکشنبی په ورځ اختر کول بغیر له دینه چی میاشت وگوری دهغه په شپه حرام دی اوگناه ده اوپه مفطر باندی دهغه ورځ قضاء لازمه ده. واما الکفارة فلا لاختلاف الامام ابی یوسف ﷫ فیما قبل الزوال. خوکه ددی څخه وروسته میاشت ولیدل سی دشنبی په ورځ دغروب څخه وروسته یعنی دیکشنبی په شپه دیوځای څخه ثابت سی نودهغه په سبب چی اختلاف دمطالعو معتبر نه دی دیکشنبی دورځی قضا ساقطه سوه لکه څنگه چی همدلته همدا قصه مخکی راغلی ده چی ددی ځای درؤیت مطابق ددوشنبی په ورځ اختر وسو، یعنی ددیرشو روژو نیولو څخه وروسته هغه محقق سو چی په بعضو وطنونو کی رؤیت هلال

(١). ردالمحتار کتاب الصوم تحت قوله ولو کانوا ببلدة لاحاکم ج٢ ص ١٢٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٢. ظفیر
(٢). ایضاً، ظفیر

دشوال دشنبې په ورځ سويدى اوديكشنبې په ورځ اختر سويدى اودهلال ليدونكى ثقه او معتبر دى زما سره هم ملاقى سويدى دى اوبيان يې كړى دى اوپه څوځايونو كې همدا قصې مخكې راغلى دى لهذا اختر ديكشنبې په ورځ ثابت سو اوهغه خلګ چې بې دشرعى دلائلو ديكشنبې په ورځ روژه افطار كړيده اواختر يې كړى وو، دروژى قضاء ځينې ساقطه سوه او دتقويم حساب اويا حساب د: (اهجز وبود) اويا اول درمضان الماضى خامس درمضان الاتية، اويا رابع درجب غره رمضان، اوداسې نور هيڅ قابل داعتبار ورنه دى ځكه چې څو څو واره مودغه حساب په خپل عمر كې غلط پيداكې بناء په دى باندى هرچا چې ديكشنبې په ورځ باندى په دى ښار كې اختر كړيدى ښه يې كړى مګر هغه چې حسب الاتفاق په بعضو ملكونو دهندكې په حسب درؤيت دعيد ديكشنبې په ورځ ثابت سويدى په هغه باندى فطر له مذكور شخص څخه ساقط دى، نه دصحيح كيدلو په وجه ددغه سړى خيال حسب الاتفاق همدااورؤيته بالنهار ليلة الاتية مطلقا على المذهب ([1])، درمختار، قوله ورؤيته بالنهار الخ اوسواء روى قبل الزوال اوبعده وقوله على الذهب اى الذى هوقول ابى حنيفة ومحمد (الى ان قال) والمختار قولهما شامى ([2]). وروسته دزوال په وخت دمياشتې ليدل اوپه دى ورځ ددغه دوجه اختر كول جائزنه دى.

<u>په رؤيت هلال كې كم خلګ داعتبارورږدى</u> سوال: (٢٨) په ٢٩ دشعبان درمضان المبارك هلال لسو مسلمانانو اويوولسو هندوانو وليدله من جمله دمسلمانانو څخه يو سړى متشرع اوپابيند دلمانځه او دروژى دى اونور فاسقان اوګيره خريلى وو، دګيرى دنه لرلو په وجه زيد شاهدى قبوله نه كړه، دداسې كسانو شاهدى مفيد دثبوت دهلال رمضان دى اوكه نه؟ اودروژى پرماتونكو او دروژى نه نيوونكو باندى كفاره راځى اوكه نه؟

جواب: كه چيرى دشعبان په ٢٩ ورځ باندى وريځ وه نوديوه عادل يا دمستور الحال شهادت هم په هلال درمضان كې ثابتيږى ([3]). نوكه يوسړى هم ددغو ليدونكو څخه متشرع دروژى اودلمانځه پابيند اودمنهياتو څخه مجتنب وى نودده په بيان باندى روژه نيول لازم وى، اوكه يوسړى داسې نه وو، نوكه زيد دده قول معتبر اوقبول نه كې نوحق په جانب دى‌دروژى پرماتوونكواوپرنه نيوونكوكفاره نسته بلكه يوازى قضايي وربانډى

([1]). الدر المختار على هامش ردالمحتار ج٢ ص ١٣٠ ، ط. س. ج٢ ص٣٩٢ مطلب فى روية الهلال نهارا. ظفير

([2]). ردالمحتار ايضا ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢. ظفير

([3]). للصوم مع علة كغيم وغبار خبر عدل اومستور على ما صححه البزازى الخ (الدر المختار على هامش رد المحتار ج٢ ص ١٢٣ كتاب الصوم ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٥). ظفير

لازم ده چې محققه سویده چې پر۲۹ دشعبان سپوږمی راختلی ده.

دفاسق پرشاهدی باندی دروژې حکم: **سوال**: (۲۹۱) ولوشهد فاسق وقبلها الامام وامر الناس بالصوم فافطر هو اوواحد من اهل بلده قال عامة المشائخ تلزمه الکفارة. کذافی الخلاصة. ([1]) په دی عبارت کی وجوب دکفاری په امام باندی دکمی وجه څخه دی اوددی عبارت مطلب څه دی؟

جواب: ددی عبارت دعالمگیری مطلب دادی چې درمضان دمیاشتی شاهدی چې کم فاسق ورکړه اوامام قبوله کړه، اوخلګو ته یې دروژې دورکولو حکم ورکی نوکه ددی وروسته یې پخپله افطار وکی اویایو بل سړی دښاریانو څخه روژه ماته کړه نوکفاره لازمه ده، دکفاری دلازمیدو وجه داده چې امام دفاسق شاهدی قبوله کړه او دروژې دنیولو حکم یې ورکی نورمضان ثابت سو. ځکه چې که امام دیوه فاسق شاهدی درمضان په باره کی قبوله کړه نومعتبره ده اورمضان ثابتیږی، ددی څخه وروسته چې هرچا روژه ماته کړه یایی پریښووله کفاره باندی لازمه ده نودکفاری په وجهه درمضان دروژې افطارول دی.

دورځی دمیاشتی دلیدلو حکم: **سوال**: (۳۰۱) که دورځی میاشت ولیدل سوه نوافطار دروژې وسی اوکه نه؟ اوپه مفطر باندی قضاء لازمه ده اوکه نه کفاره؟

جواب: دورځی دهلال لیدل اعتبار نه لری دا دآئنده شپی هلال دی نه دتیری شپی نو په هغه باندی افطار جائزنه دی په مفطر باندی قضاء لازمه ده اوکفاره لازمه نه ده. بسبب شبهة للاختلاف ([2]).

ددیرشو دحساب څخه دروژې دشروع کولو څخه وروسته دخط په ذریعه شاهدی راغله چې په ۲۹ میاشت ولیدل سوه نواوس څه حکم دی؟ **سوال**: (۳۱۱) په یوه ښار اوهمدا رکم ددی سره نژدی په ۲۹ دشعبان دشنبی په ورځ غلیظه وریځ وه، دغه ورځ په دغه ښار کی اوهم ددی سره شا اوخوا میاشت ونه لیدل سوه اونه دکم ځای څخه خبر راغی، نومجبوراً یی دشعبان دیرش ورځی پوره کړی اوپه بله ورځ یعنی په دوشنبه یی روژه ونیوله، درمضان دختم څخه دوی دری ورځی مخکی دیوه ښار څخه چې دیوی میاشتی منزل په اندازه لیری دی داخبر دخط په ذریعه راغی چې دلته دشعبان په ۲۹ باندی وریځ وه لیکن ددوو ګواهانو په شاهدی باندی درمضان لومړنی ورځ یکشنبی قرار ونیوی، چې کله ورته خط

([1]). ورؤیة بالنهار للیلة الاتیة مطلقا علی المذهب (درمختار) قوله رؤیته بالنهار الخ ای سواء رئی قبل الزوال او بعده الخ (ردالمحتار ج۱ ص ۱۳۰ مطلب فی رؤیة الهلال، ط. س. ج۲ ص ۳۹۲). ظفیر

([2]). عالمگیری مصری باب ثانی فی رؤیة هلال ج۱ ص ۱۹۸. ظفیر

راغی هغه هم عالم وو، اومکتوب الیه دغه واخیستی اودښار قاضی ته چی یودینداره سړی دی راوړی اووی ویل چی زه دغه سړی ښه پیژنم چی دغه خط دهم هغه دی په دې برسیره دیوبل ځای څخه یوسړی راغی اووی ویل چی دهغه ځای مفتی صاحب دمنګل ورځ اختر اعلان کړیده. لهذا زموږ په نزد په یکشنبه اولنی روژه ګرځولو کی هیڅ شك نسته دهغه دحساب څخه نن ورځ دوشنبه ۳۰ درمضان ده، لهذا نن دا اعلان کول غواړو چی نن میاشت سته اوکه نه؟ اوسباته داختر ورځ ده اوروژه نیول حرام دی. قاضی صاحب مخکی له دی څخه خپل نظر ښکاره کی اودښار یو لوی عالم چی مفتی هم دی او خلګ یې خپل پیشوا ګڼي مشوره واخیسته هغوی وویل چی زماپه نزد داخبره داعتبار وړ نده، قاضی صاحب بناءًا علیه چی اول خو دحنفی علماوو په دی کی لوی اختلاف دی چی دبعضو په نزد معتبر دی، او دبعضو په نزد دادی چی ددوو مقاماتو ترمینځ دیوی میاشتی په اندازه مسافه وی نوپه داسی ځایونو کی دیوځای رؤیت ددوهم ځای دپاره ملتزم نه دی اوددی څخه په کم کی دیوځای حکم دبل ځای دپاره لازم دی لکه څنګه چی په فتاوٰی تاتارخانیه کی دی:

اهل بلدة اذا رأوا الهلال هل يلزم في حق كل بلدة اختلفوا فيه فبعضهم قالوا لا يلزم فانما المعتبر في حق اهل بلدة رؤيتهم وفي الخانية لا عبرة باختلاف المطالع قال القدوري ان كان بين البلدتين لا يختلف به المطالع يلزم وذكر الحلواني انه صحيح من مذهب اصحابنا انتهٰى، اوپه جامع الرموزکی دی: اقل ما يختلف به المطالع شهر، اوپه طحطاوی شرح دمراقی الفلاح کی دی چی: قوله: كما ذهب اليه صاحب التجريد وهو الاشبه لان انفصال الهلال من شعاع الشمس يختلف باختلاف المطالع كما في دخول الوقت وخروجه وهذا مثبت في علم الافلاك والهيئة واقل ما تختلف فيه المطالع مسيرة شهر كما في الجواهر انتهٰى ([1]). اوصاحب دهدایی په مختار النوازل کی لیکلی دی چی: اهل البلدة صاموا لتسعة وعشرين يوما بالرؤية واهل بلدة اخرى صاموا ثلثين بالرؤية فعلى الاول قضاء يوم اذا لـم يختلف المطالع بينهما اما اذا اختلف لا يجب القضاء .

اوهغه علماوو چی اختلاف دمطالعوته مطلقا قرار ورکی دهغوی دلیل داحدیث پاك دی: رَوَى كُرَيْبٍ أَنَّ أُمَّ الْفَضْلِ بَعَثَهُ إِلَى مُعَاوِيَةَ ﷺ بِالشَّامِ قَالَ فَقَدِمْتُ الشَّامَ وَقَضَيْتُ حَاجَتَهَا وَاسْتُقْبِلَ عَلَيَّ

([1]). الطحطاوی علی مراقی الفلاح کتاب الصوم ص ۳۵۹. ظفیر

رَمَضَانُ وَأَنَابِالشَّامِ فَرَأَيْتُ الْهِلَالَ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ ثُمَّ قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فِي آخِرِ الشَّهْرِ فَسَأَلَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا مَتٰى رَأَيْتُمُ الْهِلَالَ فَقُلْتُ رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ أَنْتَ رَأَيْتَهُ فَقُلْتُ نَعَمْ وَرَآهُ النَّاسُ وَصَامُوا وَصَامَ مُعَاوِيَةُ فَقَالَ لَكِنَّا رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ السَّبْتِ فَلَا نَزَالُ نَصُومُ حَتّٰى تُكْمِلَ ثَلَاثِينَ أَوْ نَرَاهُ فَقُلْتُ أَوَ لَا يَكْتَفِي رُؤْيَةِ مُعَاوِيَةَ وَصِيَامِهِ فَقَالَ لَا هَكَذَا أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه الجماعة الاالبخاری وابن ماجه (منتقٰی). اوشاه ولی الله صاحب محدث دهلوی په مصفٰی شرح موطا مطبوعه فاروقی ص ٢٢٢ کی لیکلی دی چی فرمایی:

مسئله: که هلال په یوښار کی ولیدل سی، اوپه بل ښارکی یی تفحص وکی او ونه لیدل سوه نوکه دغه ښار نژدی وی نولازم دی درؤیت حکم پردوی باندی اوکه لیری نه وی نو لازم نه دی بحسب حدیث ابن عباس اوپه قیاس دمسئلی دفطر او حج چی په حدیث پاك کی منصوص سویدی، اوښکاره هغه دی چی دمسافت وروسته قصر دی، اوایراد نه دی سوی چی مسافت دقصر ته دهلال په امر سره هیڅ تعلق نسته ځکه چی مشروعیت داکتفاء دهری ناحیی په خپل رؤیت دجهت څخه دحرج ده په تکلیف دابلاغ داخبار څخه دجهته داختلاف دمطالعو اوعادة قاضی دی په بلوغ داخبار په مواضع قریبه کی، نوکه داخر دښار څخه چی په هغه کی رؤیت متحقق سی په دوو مرحلو وی دهغه حکم لازم دی. نوددغه عباراتو څخه په واضحه توګه ښکاره کیږی چی اول زیاتو علماوو اختلاف معتبر ګڼلی اوکم علماء چی ددی قائل دی چی داهل مشرق درؤیت څخه واهل مغرب ته رؤیت ثابت سی دوی هم خط اوتار ته اعتبار نه ورکوی ځکه چی الخط یشبه الخط.

مفتی صاحب ددغو ټولو علماوو واقوالو پیش نظر ته په کتلو دنهایت غور اوخوض څخه وروسته دارایه ورکړه چی دغه شیان دموجب په طریقو کی شامل نه دی لکه قاضی صاحب چی داختر داعلان څخه انکار وکی، او دقاضی ورباندی مخالفت وسو اوبعضو خلګو هغه داختر اعلان ته مجبور کی، لیکن قاضی صاحب داعلان سره متفق نه وو، شرعًا ددغو خلګو دقاضی خلاف دغه رویه څنګه ده؟

٢\: آیا په رمضان اوپه اختر کی دخط بالکل اعتبار نسته اوکه سته نوڅه ډول صورتونه او طریقی یی دی چی دهغه څخه دخط اعتبار کیدی سی؟

جواب: اقول وبالله التوفیق، دا امر ښکاره دی او دحنفی فقهی څخه ثابت دی چی په وریځی اوګرد کی دیوعادل یا دمستور الحال سړی دشاهدی څخه هم رمضان ثابتیږی نو ددوو عادل یامستور په شاهدی سره په درجه اولی سره ثابتیږی او داهم مسلمه ده چی

دصحیح او مختار مذهب موافق اختلاف دمطالعو په هلال دصوم اوفطر کی معتبر نه دی داهل مغرب درؤیت څخه پراهل مشرق حکم ثابتیږی او کله چی معتبر او راجح او ظاهر الروایة اومفتی به عدم اعتبار دمطالعو دی نوبیاپه دی کی بحث کول هم دمقلدینو بی موقع دی ځکه چی دمحققینو فقهاوو ترجیح زمونږ دپاره کافی حجت دی په درمختار کی دی: واختلاف المطالع غیر معتبر علی ظاهر المذهب وعلیه اکثر المشائخ وعلیه الفتوٰی، بحر عن الخلاصة وفی ردالمحتار للشامی وظاهر الروایة الثانی وهو المعتمد عندنا وعند المالکیة وعند الحنابلة ج۲ ص ۱۳۲ و۱۳۳، کتاب الصوم. البته داهل مغرب درؤیت داهل مشرق دپاره په ثابتیدلوکی داضروری ده چی اهل مشرق ته په طریق موجب سره داهل مغربو رؤیت مستحق کړل سی اودطریق موجب تشریح په ردالمحتار کی داډول سوی ده چی دوه شاهدان دلته راسی اودښار رؤیت بیان کی اویا دهغه ځای دقاضی اوعالم په حکم سره دوه شاهدان بیان کړی اویا خبر ددغه ښار درؤیت څخه عام اومستفیض سی، په ښکاره دصورت مسئوله کی په دغه دری واړو امورو کی یوامر هم نه دی پاته، ځکه نو دقاضی صاحب پردی باندی حکم درمضانیت نه کولو موافق دشریعت دی اواعتراض درباندی بی ځایه دی او مجبورول یی مناسب نه دی، باقی هغه حضراتو چی دغه خط معتبر ګڼلی اوحکم یی باندی کړی داهم صحیح دی ځکه چی په کمه موقع کی چی دتزوید ګمان نه وی نوهلته فقهاوو خط معتبر ګڼلی دی اودا ظاهره ده چی په خط اوکتابت سره دتزوید احتمال بیخی کم دی اوضعیف دی، په شامی جلد رابع صفحه ۴۹۰ کتاب القاضی الی القاضی کی دی چی تصریح یی کړیده، قال فی الفتح: ان خط السمسار والصراف حجة للعرف الجاري به قال البيري هذا الذي في غالب الكتب حتى المجتبٰى فقال في الاقرار واما خط البياع والصراف والسمسار فهو حجة وان لم يكن مصدراً معنوناً يعرف ظاهراً بين الناس وكذا ما يكتب الناس فيما بينهم يجب ان يكون حجةً للعرف آهـ اوددی څخه مخکی په شامی کی دا هم سته چی دخط غیر معمول به یاغیر معتمد کیدل دقضاء داعتبار څخه دی یعنی قاضی دی په دی باندی حکم نه کوی په وخت دمنازعت لکن دانه ده چی مطلقا دی خط غیر معتبر سی. وفی الاشباه لایعمل بالخط (درمختار) قال الشامی عبارة الاشباه لا يعتمد على الخط ولا يعمل بمكتوب الوقف الذي عليه خطوط القضاة الماضين الخ قال البيري: المراد من قوله لا عتمد: أي لا يقضي القاضي بذلك عند المنازعة، لان الخط مما يزور ويفتعل الخ وذكر العلامة البعلي في شرحه على الاشباه ان للشارح العلامة شيخ علاؤ الدين رسالة حاصلها بعد نقله ما في الاشباه وان ابن شحنة وابن وهبان جزما بالعمل بدفتر

الصراف ونحوه لعلة امن التزوير كما جزم به البزازي والسرخسي وقاضي خان (شامی) تحت قول الماتن ويلحق به المبرات باب كتاب القاضي الى القاضي ([1]). الحاصل داچی په کم ځای کی چی دتزویر څخه امن وی نوهلته فقهاء په خط باندی عمل کول لیکلی دی نودچا سره چی خط معروف وی او دتزویر څخه مامون وی هغه په دی باندی عمل کولای سی، ځکه نوپر هغو خلګو باندی هم اعتراض نسته کمو چی په ذکر سوی وخت کی په خط باندی عمل وکی.

٢\: کله چی دا امر محقق سو چی دامن په صورت کی دتزویر دخط اعتبار اودغه معمول به دی نوکه چیری یو عالم یاقاضی دا ولیکی اووی لیږی چی زماپه مخکی شاهدی معتبره درؤیت هلال په باره کی تیره سوه اوما قبوله کړه او وربانددی می حکم دروژی وکی، نوخلګ چی دغه پیژنی او یایی دقرائنو څخه معلوموی چی دده خط دی دڅه وجه څخه دتزویر اودهوکی دامله نه دی نودغه خلګو ته وربانددی عمل کول جائزدی ګویا دغه عالم دهغه په مخ کی دابیان ورکی چی ما داډول حکم کړی دی.

داختر دمیاشتی دپاره دڅو سړیو شاهدی په کارده؟ **سوال**: (٣٢\) داختر دمیاشتی دثبوت دپاره دڅومره کسانو شاهدی ضروری ده؟

جواب: که مطلع صاف وی نوپه فطر کی دکثیری مجمع شاهدی ضرورت دی اوکه غبار او وریځ وی نودوه سړی ثقه اویا یوسړی او ددوو ښځو دشاهدی ضرورت دی. (ان كان فی السماء علة ای فی الفطر) لاتقبل الاشهادة رجلين اورجل اوامرأتين ويشترط فيه الحرية ولفظ الشهادة الخ وان كانت مصحية لاتقبل الا قول الجماعة كما فی هلال رمضان. جميل الرحمٰن)

دهیئت دحساب په بنسټ دروژی شروع کول څنګه دی؟ **سوال**: (٣٣\) په قصبه نګرام کی هفته ۴ درجب وه چی ددی دحساب څخه یوه هفته اول درمضان شریف وه، همدا رکم دقواعدو دهیئت څخه هم داخبره ثابته ده. نویو فریق بغیر دمیاشتی دلیدلو څخه روژه ونیوله، اودوهم فریق په یوم الشك کی تر ١١ بجو پوری انتظار وکی، او دمیاشتی خبر یی واخیستی اوروژه یی ماته کړه دکانپور اودنورو ځایونو څخه خبر په قاعدی توګه رانغی، نواوس په دی دواړوکی څوك پرحقه دی؟ دوهم فریق دمولوی صاحب په حکم باندی دروژی افطار کړی دی؟

جواب: په دی صورت کی روژه ماتوونکی حق په جانب دی او دشرعی قاعدی موافق هم هغه عالم دی کم چی په دیرشم دشعبان چی دشك ورځ ده په دی کی انتظار وکی اوروژه

([1]). الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١٢۴ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٢. ظفير صديقی

یی ماته کړه اووی یی کړل، اول فریق چاچې په مجردی قواعدو دعلم هیئت اودتجربی په اساس روژه ونیوله داپه غلطه دی، په درمختار کی دی: ولاعبرة بقول الموقتين ولو عدولا على المذهب فقط (ووجهه ماقلنا ان الشارع لم يعتمد الحساب بل الغاه بالكلية بقوله نحن امية لا نكتب ولا نحسب، الشهر هكذا وهكذا الخ، شامی ج۲ ص ۱۲۲ وج۲ ص ۱۲۵. ظفیر صدیقی).

دفطرپه میاشت کی دشاهدی او دشاهدی نصاب او په شاهدی کی دعدل شرط: **سوال**: (۳۴)

دفطر دهلال په ثبوت کی نصاب دشاهدی دوریځی او دداسی نورو په حالت کی کافی دی اوکه نه؟ عدل په شاهدی کی شرط دی اوکه څنګه؟ په بعضو کتابونو کی چی دعدل په تفسیر کی ترك الكبائر الخ منقول دی په دغه زمانه کی معتبر دی اوکه نه؟

جواب: په دی مسئله کی داتفصیل دی چی دفطر دمیاشتی داثبات دپاره دوریځی او دګرد اوغبار دشاهدی نصاب اوعدالت ضروری دی. كما فی الدر المختار وشرط للفطر مع العلة والعداله نصاب الشهادة الخ (۱). اوپه شامی کی په تشریح دقبلولو دشاهدی دمستور الحال په باره کی دی. اما مع تبيين الفسق فلا قائل به عندنا الخ (۲) وفيه من كتاب القضاء وما في القنية والمجتبٰى من قبول ذي المروة الصادق فقول الثاني وضعفه الكمال بانه تعليل في مقابلة النص فلا يقبل واقره المصنف رحمه الله آهـ قلت: قدمنا انفاً عن البحر ان ظاهر النص انه لا يحل قبول شهادة الفاسق قبل تعرف حاله فاذا ظهر للقاضي من حاله الصدق وقبله يكون موافقا للنص الخ (۳) وقال قبيله وقولهم بوجوب السوال عن الشاهد سرًا وعلانية طعن الخصم اولا فی سائر الحقوق على قولهما المفتٰى به يقتضى الاثم بتركه الخ (۴).

اوامام ابی یوسف رحمه الله چی فاسق دجاه اومروت والاستثنٰی ګرځولی دی سره ددی چی داضعیف دی خومقید هم دی په دی حالت سره چی قاضی ته ظن غالب دده په صدق کی وی. قال فان لم يغلب على ظن القاضى صدقه بان غلب كذبه عنده اوتساويا فلايقبلها ای لايصح قبولها اصلا (۵)، شامی، وفی الدرالمختار واستثنى الثانى الفاسق ذا الجاه والمروة فانه يجب قبول شهادته بزازيه الي ان قال قلت: سيجئ تضعيفه فراجعه رح قوله:

---

(۱). الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۲. ظفیر
(۲). ردالمحتار كتاب الصوم ج۲ ص ۲۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۵. ظفیر
(۳). ردالمحتار كتاب القضاء قبيل مطلب فى قضاء العدو على عدوه ج۴ ص ۴۱۲ ، ط. س. ج۵ ص ۳۵۲. ظفیر
(۴). ایضا ، ط. س. ج۵ ص ۳۵۲. ظفیر
(۵). ردالمحتار كتاب القضاء قبيل مطلب فى قضاء العدو على عدوه ج۴ ص ۴۱۲ ، ط. س. ج۵ ص ۳۵۲. ظفیر

واستثنی الثانی ؒ ای ابویوسف من الفاسق الذي یاثم القاضي بقبول شهادته والظاهر ان هذا مما یغلب علي ظن القاضي صدقه ؒ شامی (۱) ص ۳۰۰ کتاب القضاء. نو باوجود ددی تصریحاتو عدالت دشهود منصوصه ؤ ساقط الاعتبار کول اودفساقو شاهدی کافی گڼل دنص خلاف دی او دمعتبره فقهی خلاف دی. فقط

رمضان یا داختر دمیاشتی خبر: **سوال**: (۳۵\) په تار باندی درمضان یا داختر دمیاشتی خبر معتبر دی اوکه نه؟

جواب: دتار خبر شرعًا معتبر نه دی (۲). فقط

په جنتری یاتار باندی اعتراض کول صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۳٦\) په ۲۹ دشعبان دوریځی دوجه څخه چا میاشت ونه لیدله اوپه جنتری اونورو کی یی میاشت ۲۹ لیکلی ده اودېولو خلګو داخیال دی چی میاشت دنه ویشتو ده نوپه دی صورت کی په جنتری او تار باندی اعتبار کول او اولنی روژه نیول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دی دشعبان دیرش ورځی پوره سی اوددی څخه وروسته دی اوله روژه ونیول سی. کما وردفی الحدیث، اوپه جنتری اوپه تار باندی اعتماد په کارنه دی (۳). قال ﷺ صوموا لرؤیته وافطروا لرؤیته. الحدیث (۴). فقط

دهیئت په اعتبار دمیاشتی اعتبار درست دی اوکه نه؟ سوال: (۳۷\) یومضمون مولوی نظام الدین حسن صاحب په اخبار کی چاپ کړی دی چی دهغه خلاصه داده چی که یومسلمان دهیئت علم زده کړی نوهغه ته به معلومه وی چی د: الشمس والقمر بحسبان، ثومره تصدیق کیږی چی پنجشنبه ۵ دجولای کال ۱۹۱۷ م ۸ یا۹ دقیقی مخکی تر درو بجو دماپښین خسوف وسو یعنی میاشت خره وه په دی وخت کی دسپوږمی عمر دڅوارلسو ورځو څخه زیات وو، او ددی ورځی په ۱۵ درمضان سنه ۱۳۳۵ھ کیدو کی څه شك نسی کیدی، درمضان المبارك په غره کی دعدم رؤیت په وجه دروژی فرضیت نسی

---

(۱). ایضا ، ط. س. ج۵ ص ۳۵۲. ظفیر

(۲). فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق موجب (درمختار) کان یتحمل اثنان الشهادة اویشهدا علی حکم القاضی اویستفیض الخبر بخلاف ما اذا اخبرا ان اهل بلدة کذا رواه لانه حکایة (رد المحتار قبیل باب مایفسد الصوم وما لا یفسد ج۵ ص ۱۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۲). ظفیر

(۳). ولا عبرة بقول الموقتین ولوعدولا علی المذهب (درمختار) ای فی وجوب الصوم علی الناس بل فی المعراج لایعتبر قولهم بالاجماع ولا یجوز للمنجم ان یعمل علی حساب نفسه (ردالمحتار کتاب الصوم مطلب لاعبرة بقول الموقتین ج۲ ص ۱۲۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۷). ظفیر

(۴). مشکوة شریف باب رؤیة الهلال فصل اول عن ابی هریرة ص ۱۷۴ ، ددی څخه وروسته داجمله راځی: فان غم علیکم فاکملوا عدة شعبان ثلثین متفق علیه (ایضا) ط. س. ج۲ ص ۳۸۷). ظفیر

کیدی لیکن دهلال اودبدر دلیدلو ځخه هیځ شبهه نسی کیدی چی جمعه ۲۰ دجولای درمضان ۳۰ دی اوپه دی ورځ کی مطلع صاف نه وی نورؤیت ته ضرورت نسته دعلم هیئت په لحاظ اودمشاهدی په لحاظ شنبه د ۱۹۱۷ کال دجولای په ۲۱ باندی غره دشوال سنه ۱۳۳۵ هـ کیدل لازم دی اوپه دغه ورځ روژه دشنبی حرامه ده.

جواب: قال فی الدرالمختار ولاعبرة بقول الموقتين ولوعدولاً على المذهب قال فی الوهبانية وقول اولی التوقيت ليس بموجب وقيل نعم الخ وفی الشامی عن المعراج لا يعتبر قولهم بالاجماع ولا يجوز لمنجم ان يعمل بحساب نفسه وفی النهر فلا يلزم بقول الموقتين انه ای الهلال لكون فی السماء ليلة كذا (١)، ج٢ ص ٩٢ شامی.

نومعلومه سوه چی عند الحنفية تحرير مذكور په سوال کی صحیح نه دی اوبغیر درؤیت او دشاهدی معتبری ځخه جمعه چی ۲۹ درمضان ده میاشت منل کیدی نسی اوشنبه به اختر نه وی، البته که په جمعه دقاعدی سره سم شاهدی درؤیت تیره سی نوبیا به شنبه اختر وی اوکه داسی نه وی نونه به وی (٢) غرض دادی چی دجمعه ورځ درمضان ۲۹ شریفه ده، کمه قاعده چی د۲۹ تاریخ ده هم هغه دی دلته هم جاری سی. فقط

که دتحریر په واسطه دمیاشتی دلیدلو خبر راغی نوځه حکم دی؟ سوال: (۳۸) یولیك دسکندر اباد دعلاقی ځخه چی په هغه کی دمیاشتی داختر شاهدی معتبره وه په لاس دیو معتبر سړی وعلاقی جهاجر ته ورسیدی اوذکرسوی سړی ددغه علاقی اوسیدونکی دی اوپه ۲۸ او ۲۹ تاریخ درمضان په اسکندر آباد کی موجود وو اوټول واقعات دسماعت اورؤیت یی پخپله غوږونو واوریدل اوهم دغه ذکرسوی تحریر یې راواخیستی اوراغی خپل علم یی ښکاره کی اودغه لیك یی وړاندی کی په دی صورت کی اختر دشنبی په ورځ سو او دروژی افطار وسو، اوکلیوالو مذکور شخص اوهمدارنګه دده تحریر معتبر وګڼئ اویقین یې په وکړئ، په دې صورت کی کلیوالو جائز کار وکی اوکه نه؟ من جمله دکلی دخلګو ځخه دوه دری کسانو یقین ونه کی، سره ددی ځخه چی دشنبی ترماښامه پوری متواتر خبرونه درؤیت دډهلی ځخه اودنورو علاقو ځخه راورسیدل، مهربانی وکړئ ددی جواب راکړی؟

جواب: په دی صورت کی دروژی افطارول اواختر کول صحیح او معتبر دی او ذکر سوی

(١). ردالمحتار کتاب الصوم مطلب لاعبرة بقول الموقتين (ج٢ ص ١٢٥ وص ١٢٢). ظفير

(٢). وشرط للفطر مع العلة والعدالة نصاب الشهادة الخ (درمختار) ای علی الاموال وهو رجلان اورجل وامرأتان (ردالمحتار) وقبل بلا علة جمع عظيم يقع العلم الشرعی الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢۴ وص ١٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٢). ظفير

تحریر معتبر دی اوددی موافق عمل کول په کاردی کمو خلگو چی روژه نه ده افطار کړی اواختریې نه دی کړی هغه په غلطه دی اودهغوی روژه هم نه ده صحیح ځکه چی داداختر ورځ ده په راتلونکی کی دی داسی نه کوی (١).

داختر دمیاشتی په لیدو کی دمستور الحال شاهدی معتبره ده اوکه نه؟ سوال: (٣٩١) نن دشنبی ورځ دمیاشتی په لیدو دلته اختر سویدی، دروژی دمیاشتی په لیدلو اوداختر دمیاشتی په لیدلو کی دمستور الحال شاهدی معتبره ده اوکه نه ده مثلاً بی نمازه وی او روژه قصداً نه نیسی سود خور وی په عدالت کی ددرواغو شاهدی ورکوی؟ که مستور الحال وی نو آیا دهغه دحالت تفتیش دی وسی؟

جواب: درمضان اوداختر دمیاشتی په لیدلو کی دمستور الحال شاهدی معتبره ده یعنی ددی مطلب دادی چی فسق دشاهد ښکاره نه وی یعنی بی نمازه نه وی دشرعی دخلاف کارونو مرتکب نه وی، نوکه دشاهد ښکاره حال داوی نوپه دی کی دشرع خلاف نه دی نو دده شاهدی بی دتحقیق څخه دحاله قبلول درست دی (٢). فقط

دتار په خبر باندی چی کمو خلگو روژه ماته کړی دهغوی څه حکم دی: سوال: (٤٠١) دتار په خبر باندی چی کمو خلگو روژه ماته کړه دهغوی څه حکم دی؟

جواب: بی دتحقیقه اودشرعی شاهدی څخه یوازی دتار په خبر باندی روژه ماتول اواختر کول جائزنه وو (٣). لیکن چونکی دجمعی رؤیت او دشنبی اختر محقق سویدی او دډیرو ځایونو څخه درؤیت خبرونه راغلی، په دیوبند کی هم روایت سویدی ددی دپاره اوس په هغو خلگو چاچی دشنبی روژه نه ده نیولی اواختر یې وکی څه مواخذه نسته، دتار خبر یوازی معتبر نه دی خوکه دقرائنو څخه ددی صدق محقق وی نوعمل کولورباندی صحیح دی، یوازی رؤیت دټولو ځایونو دپاره معتبردی که ثابت سی داسی چی دفقهی په کتابونو کی تصریح سویده چی داهل مشرق رؤیت د اهل مغرب دپاره لازمیږی چی که

---

(١). واختلاف المطالع الخ غیر معتبر الخ فیلزم اهل المشرق برویة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق موجب (درمختار) کان یتحمل الشهادة اثنان اویشهدا علی حکم القاضی او یستفیض الخبر (ردالمحتار قبیل باب ما یفسد الصوم ج٢ ص ٢٣١ وص ٢٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢). ظفیر

(٢). للصوم مع علة کغیم وغبار خبر عدل اومستور علی ماصححه البزازی علی خلاف ظاهر الروایة لافاسق اتفاقا (درمختار) لاقوله فی الدیانات غیر مقبول الخ وقول الطحاوی اوغیر عدل محمول علی المستور کما هو روایة الحسن لان المراد بالعدل من ثبت عدالته ولاثبوت فی المستور اما مع تبیین الفسق فلا قائل به عندنا (رد المحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢٣ وص ١٢٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٥). ظفیر

(٣). وشرط للفطر مع العلة نصاب الشهادة (درمختار) ای علی الاموال وهو رجلان اورجل اومراتان (ردالمحتار الصوم ج٢ ص ١٢٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٦). ظفیر

چیری دهغه ثبوت هغه ته ورسیږی ([1]). فقط

آیا دجماعت دپاره دمیاشتی په لیدلو کی عدالت شرط دی؟ **سوال**: (٤١\) فقهاوو لیکلی دی چی په واسطی سره دمیاشتی دثبوت دفطر اودعید اضحٰی په حالت دتکدر دمطلع کی نصاب دشاهدی سره دعدالته شرط دی که په نصاب کی دوه یادری سړی اضافه سی نودعدالت شرط به ساقط سی اوکه نه؟

جواب: دجماعت دپاره عدالت هغه وخت شرط نه دی چی جماعت عظیمه وی چی په خبر باندی یی دتواتر په وجه غالب ظن حاصل سی ([2]). وقال فی ردالمحتار الجمع العظیم جمع یقع العلم بخبرهم ویحکم العقل بعدم تواطئهم علی الکذب ([3]). فقط

دسپوږمی په سلسله شاهدی اوفیصله: **سوال**: (٤٢\) څه فرمایی ددین علماء په دی صورت کی چی په یوه ښار کی دعید الفطر دهلال متعلق مختلفی ګواهیانی داهل اسلام څخه دښار قاضی ته راغلی دی لیکن قاضی صاحب دهغوی څخه یو یو سړی بیلوی چی بل شاهد یی وانه وری دقیقه جرح کوی دسپوږمی په باره کی چی تاپه کم ځای کی ولیدله ددی دواړی کناری کمی خواته وی، اوددی سره کم ستوری ؤ اوکه نه؟ لاندی یا لوړ وریځ وه اوکه نه؟ اوکه وه نو پرخومره فاصلو وه اوڅه رنګ یی وو، اوداسی نور، په دی سوالونو کی چی کله هم ددوو شاهدانو په مینځ کی یوه ذره اختلاف وی دهغوی شاهدی دی ردسی په آخرکی بیاهم څوشهادتونه هرکم سالم اوپه جرح کی بی عیبه اومضبوط قائم وه، اوسهار اوه ۷ بجی قاضی صاحب دغه شاهدانی معتبری وګڼلی اودافطارِ صیام فتوٰی یی ورکړه اوورسره یی دا وفرمایل چی لکه څنګه چی په کلیو کی دعامی اطلاع کیدل په دی وخت کی مشکل دی لهذا دوه رکعته عید الفطر دی سباته اداء سی، چی هر څومره بعضو داسلام خلګو اواهل علمو وویل چی تاخیر بی له عذره صحیح نه دی ددی وجه نن دوه رکعته ضرور اداء کول په کاردی مګر قاضی صاحب دا ونه منله اووی فرمایل چی داتاخیر بلاعذره نه دی بلکی عامه اطلاع په عذر سره ده لهذا سباته دوه رکعاته داختر بی دکراهته صحیح دی، چنانچه عام مسلمانان دښار خپلو خپلو کورونو

---

[1]. فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق موجب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار قبیل باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٢٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢). ظفیر

[2]. وشرط للفطر مع العلة والعدالة نصاب الشهادة الخ وبلا علة جمع عظیم (درمختار) ای ان شرط القبول عند عدم علة فی السماء لهلال الصوم اوالفطر اوغیرهما الخ اخبار جمع عظیم الخ قال ح ولا یشترط فیهم الاسلام والعدالة الخ وعدم اشتراط الاسلام له لابدله من نقل صریح (ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢٢، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢). ظفیر

[3]. ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٧ – ٣٨٨. ظفیر

ته بیرته ولاړل، مگر بعضو خلگوتاخیر ناجائز وبولی اوپه عیدگاه کی یې دوه رکعته اداء کړه اوپه سوونو مسلمانان پکښې شریك هم سول، عامو مسلمانانو دقاضی صاحب داعلان مطابق اقتداء وکړه، دوباره یې اداء کی، ددی امورو دجواب په طلب یو:

دقاضی صاحب دجرح حق سته اوکه نه؟ سوال: (۴۳\۱\۱) قاضی صاحب ته درؤیت هلال دشاهدانو دارکم دباریکی جرح کول شرعًا ترکمه ځایه حق حاصل دی؟

تاخیرپه رؤیت کی درست دی اوکه نه؟ سوال: (۲\ . ۴۴) په ذکر سوی صورت کی چی څه تاخیر وسی هغه که په عذروی اوکه بغیر دعذره خصوصًا که **۵** ساعته وخت پیداسی ورته، اوپه ښار اودښار په متعلقاتو کی داطلاع دپاره همدغه هدایات چی دافطار صوم دپاره په عمل کی راسی داختر ددوو رکعتونو داطلاع دپاره هم کافی وه ، یاکم از کم دمنادی په ذریعه په دوو ساعتونو کی پوره اعلان کیدلای سوای.

داهل قریه په حق کی لمونځ وروسته کول څنګه دی؟ سوال: (۴۵\۳\) اهلِ قریه ؤ ته اطلاع ورکول یا ددوی درعایت په وجه داختر لمونځ سباته ځنډول ترکمه پوری صحیح دی ؟

دقاضی په مخالفت کی چی کمو کسانو دوه رکعاته لمونځ ادا کړی دهغو حکم؟ سوال: (۴۶\۴\) دتاخیر په صورت کی چی کمو مسلمانانو دقاضی په خلاف خپل دوه رکعاته په دی ورځ په عیدگاه کی اداء کړه هغوی دحق پرسر دی اوکه نه دباطل په سر، اوهغو ته دا ډول کول ضروری یاجائزؤ اوکه نه؟ په اتباع کولوکی دقاضی صاحب دحکم منل لازم وو.

دیوم الغد دلمانځه څه حکم دی؟ سوال: (۴۷\۴\) په یوم الغد کی چی قاضی صاحب او کمو مسلمانانو لمونځ وکی هغه صحیح سوی دی اوکه نه باطل دی اوهغه اداء سویدی اوکه قضاء، اوهغه مکروه دی اوکه بی عیبه؟ هیله ده چی دفقهی او دشرعی دلائلو په رڼا کی مفصل بیان وکی، ماجور عندالناس به یاست.

جواب: \۱\: داډول تحقیق اوتدقیق دشهودو څخه صحیح نه دی. قال فی الشامی ولا یکلف الشاهد الی بیان لون الدابة لان سئل عما لا یکلف الی بیانه (۱). نوچه په حقوق العبادو کی دارکم تحقیق صحیح نه دی نوپه حقوق الله کی په درجه اولیٰ سره صحیح نه دی. الا بوجه وجیه.

\۲\ ، ۳. دا تاخیر بلاعذره سویدی اوصحیح نه دی ولی چی اهل ښاریه ؤ ته داطلاع دپاره وخت کافی وو (۲) ، اوداهل قریه خلگوته چی په هغوی باندی داختر لمونځ واجب نه دی

---

(۱). و(۲). وتؤخر بعذر کمطر الی الزوال من الغد فقط (درمختار) قوله بعذر کمطر الخ دخل فیه ما اذا لم یخرج الامام واما اذا غنم الهلال فشهدوا به بعد الزوال اوقبله بحیث لا یمکن جمع الناس، قوله فقط راجع الی بعض فلا تؤخر من غیر عذر (ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۳۸۳ ، ط. س. ج۲ ص ۱۷۲). ظفیر

هغوی ته اطلاع نه رسیدل دتاخیر عذر نسی کیدلی ځکه چی دهغوی شرکت ضروری نه دی ([1]).

۴\ هغه لمونځ چی بی عذره وروسته سو صحیح نه دی که په عذر باندی سوی وی نوبیا صحیح دی لیکن هغه هم قضایی دی نه اداء. کما فی الدرالمختار وتکون قضاء لا اداء ([2]). فقط

۵\ هغوی حق کار کړی دی اوهغوی ته همدا کول په کاردی ځکه چی په بلاعذره تاخیر کی دعید الفطر لمونځ نه کیږی. کما فی الدرالمختار فالعذر ههنا ای فی الاضحٰی لنفی الکراهة وفی الفطر لصحة الخ ([3]). فقط

دخط اودتار په خبر باندی روژه ونیول سی اوکه نه؟ **سوال**: (\۴۸) په ۲۹ درمضان یاشوال باندی که سپوږمی ونه لیدل سی اوهغه معتبر شاهدان چی دفقهاؤ دتصریح موافق دی ترلاسه نه سی نو آیا دتار او دخط په خبر باندی دی اعتماد وکړل او روژه ونیول سی؟ او داختر لمونځ دی وکول سی اوکه نه؟

جواب: محض په تار یا دخط په خبر باندی اعتماد کول اوروژه نیول یا افطار کول شرعًا حکم نسته البته که دتار یا دخط خبر مصدق سی یامؤید سی په قرائنو دصدق سره بیا په هغه باندی عمل کول صحیح دی ([4]). فقط

چی په دیرشم درمضان سپوږمی ونه لیدل سی نوڅه باید وسی؟ **سوال**: (\۴۹) فیمن تم ثلٰثین یوما من رمضان ولم یرهلال شوال فصام بعده یومًا حتٰی رای الهلال فی الصبح قبل الزوال ایضا اتی التلغراف من بمبی فی یوم الجمعة وقت غروب الشمس فافطر بعضهم.

جواب: قال فی الدرالمختار وبعد صوم ثلاثین بقول عدلین حل الفطر ... ولو صاموا بقول عدل حیث یجوز وغم هلال الفطر لا یحل علی المذهب خلافا لمحمد، لکن نقل ابن الکمال عن الذخیرة أنه إن غم هلال الفطر حل اتفاقا وفي الزیلعي: الاشبه إن غم حل والالا ([5])، وفیه ایضا ورؤیته بالنهار للیلة الاتیة مطلقا علی المذهب

([1]). تجب صلاتهما فی الاصح علی من تجب علیه الجمعه بشرائطهما المتقدمة (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۷۴ ، ط. س. ج۱ ص ۱۶۶). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۸۴ ، ط. س. ج۲ ص ۱۷۶. ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العیدین ج۱ ص ۷۸۳ ، ط. س. ج۲ ص ۱۷۶. ظفیر

([4]). فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق موجب (درمختار) کان یتحمل اثنان الشهادة اویشهدا علی حکم القاضی او یستفیض الخبر بخلاف ما اذا اخبرا ان اهل بلدة کذا رواه لانه حکایة (رد المحتار قبیل باب مایفسد الصوم وما لا یفسد ج۲ ص ۱۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۲). ظفیر

([5]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۲۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۱. ظفیر

ذکره الحدادی ([1]) والتلغراف لیس بحجة شرعیة ([2]). فقط

په متواتر تار اوخط باندی رؤیت هلال ثابتیږي اوکه نه؟ سوال: (۵۰\۱\۱) لکه څنګه چی دمتواتر شاهدی لپاره عادل والی شرط نه دی همدارکم په متواتر خطونو اوتارونو کی هم دکاتب عادل والی شرط دی اوکه نه دی؟

آیاپه متواترو خطونو کی شناخت ضروري دی؟ سوال: (۵۱\۱\۲) په تار کی هیڅ شناخت نسته لیکن په خطونوکی دلاس لیك یادلیکلو دطرز یادمضامینو دقرائنوڅخه معلومیږی نو آیاپه متواترو خطونو کی هم دشناخت ضرورت سته اوکه نه؟

آیا دخطونو او دتار په وړونکی کی عادلوالی شرط دی؟ سوال: (۵۲\۳\۱) لکه څنګه چی دمتواتر شاهدی لپاره عادل والی شرط نه دی همدارکم په متواترو خطونو اوتارونو کی هم دکاتب دعادل والی شرط دی اوکه نه؟

دمستور تار یاخط کافي دی اوکه نه؟ سوال: (۵۳\۴) په رمضان کی دوریځی دوجه څخه چی دیومستور شاهدی کافی ده همدارکم دیوه مستور کاتب خط یاتار هم کافی دی او که نه؟

دخبر متواتر په شهرت باندی خبر راغی نوڅه وکی؟ سوال: (۵۴\۵) که دوریځی په حالت کی متواتر خبر مشهور سو چی په فلانی اوفلانی ښارکی په فلانی ورځ اختردی یا دمتواترو خطونو څخه معلومه سوه چی په فلانی ورځ باندی اختردی یا ددوو ځایونو څخه یو یو لیك راغی، لیکن دامعلومه نه سوه چی هلته میاشت وختله اوکه نه یوائی دشهادت دامله اختردی نوموږ په دی خبر باندی عمل وکړو اوکه نه؟

جواب: \۱: درد المحتار لفظ یی په لاندی طریقی دموجب سره لیکلی دی: او یستفیض الخبر ([3]). نوترڅو چی خبر مستفیض اومتواتر سی نو دقبول لایق سی اوپه هغه باندی عمل کول واجب سی.

\۲. تواتر به هغه وخت وی کله چی په خطونو کی شناخت پیدا سی.

\۳: په تواتر کی دعدالت لحاظ نسته ([4]).

([1]). ایضا ج۲ ص۱۳۰، وفی الشامی ای سواء روی قبل الزوال اوبعده (ردالمحتار باب ایضا، ط. س. ج۲ ص۳۹). ظ

([2]). فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق موجب (درمختار) کان یتحمل اثنان الشهادة او یشهدا علی حکم القاضی او یستفیض الخبر بخلاف ما اذا اخبرا ان اهل بلدة کذا رواه لانه حکایة (رد المحتار قبیل باب مایفسد الصوم وما لا یفسد ج۲ ص ۱۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۲). ظفیر

([3]). ردالمحتار قبیل باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۲. ظفیر

([4]). لکن لما کانت بمنزلة الخبر المتواتر وقد ثبت بها ان اهل تلك البلدة صاموا یوم کذا الزم العمل بها ۱ھ (ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۰). ظفیر

\۴: کافي نه دی.
\۵: کله چې خبر مستفيض سي نوپه هغه باندی عمل واجب دی. (١) فقط
پنځه مسلمانان چې شاهدي ورکړي نواخترډي اوکه نه؟ سوال: (\په ۲۹) درمضان کی که پنځه مسلمانان کسان چې روژه داروی میاشت یی ولیده اوامام ته راالل نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟
جواب: په دی صورت کی میاشت ثابته سوه اواختر کول په کاردی. (٢) فقط
دیوسړی په شاهدی باندی رؤیت هلال ثابتیږي اوکه نه؟ سوال: (\۵۵) یومسلمان شخص چې دشريعت پابندنه دی اودوو کسانو چماريانو (٣) په ۲۹ دشعبان دسپوږمی لیدل بیان کړل، په دی صورت کی رؤیت هلال ثابت دی اوکه نه؟ اوروژه نیول پکاردی اوکه نه؟
جواب: دمطلع په صاف حالت کی دیوه مسلمان سړی دشاهدی څخه رؤیت هلال نه ثابتیږي اودهندو چماری شاهدی هم په دی باره کی معتبره نه ده په هرحال په ذکرسوی صورت کی دمیاشت لیدل شرعاً ثابت نه دی اودغه روژه ورباندی لازمه نه ده. (٤) فقط
په رؤيت هلال باندی شاهدی: **سوال**: (\۵۲) یوه معتبره عالم مولوی داسی لیکلی دی چې زموږ په کلوکی رؤیت هلال دعید الفطر سوی دی ډیرو خلکو ولیده لیکن زماپه نزد چې اوه کسان معتبرډی قسم یی وکی اوبیان یی وکی چې موږ میاشت لیدلی ده اوورځ دوریځی وه دیوه سړی په لاس یی داسی خط رالیږلی مولوی مکتوب الیه دوه معتبر مسلمانان دتحقیق دپاره ولیږل اودغه لیك یی هم ورکی، هغو دواړو دمولوی دکاتب تحریر وکتی او پوښتنه یی وکړه چې رشتیا ستاسی په کلی کی رؤیت سویدی اودا ستاسی خط دی، هغه وویل چې ریښتیا دازما خط دی او معتبرو شاهدانو قسم کړی دی

---

(١). نعم استفاض الخبر في البلد الاخرى لزمهم على الصحيح من المذهب (در مختار) قال الرحمتي: معنى الاستفاضة أن تأتي من تلك البلدة جماعات متعددون كل منهم يخبر عن أهل تلك البلدة أنهم صاموا عن رؤية لا مجرد الشيوع من غير علم بمن أشاعه ﴿ (ردالمحتار كتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۸ وص ۱۲۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۰). ظ
(٢). وشرط للفطر مع العلة والعدالة نصاب الشهادة الخ ولو كانوا ببلدة لاحاكم فيها صاموا بقول ثقة وافطروا باخبار عدلين مع العلة للضرورة (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۴ وص ۱۲۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۶). ظفير
(٣). چماری په هندوانو کی یو قوم دی. حقانی"
(٤). وقبل (بلا علة جمع عظيم يقع العلم) الشرعي وهو غلبة الظن بخبرهم وهو مفوض إلى رأي الامام (من غير تقدير بعدد) على المذهب، وعن الامام أنه يكتفى بشاهدين، واختاره في البحر ﴿ (درمختار) أي إن شرط القبول عند عدم علة في السماء لهلال الصوم أو الفطر أو غيرهما ﴿ فلا يقبل خبر الواحد ﴿ (ردالمحتاركتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۷ – ۳۸۸). ظفير

او شاهدی یی ورکړی اودوباره یی لیکلی چی دوه کسان ماته راغلل اوداسی یی وویل هغه دواړه دوباره مولوی مکتوب الیه ته راغلل اوبیان یی ورکی چی مولوی کاتب داسی ویل. خوپه اول اودوهم خط کی یی هیڅ حکم نه دی ورکړی یواځی شاهدی یی نقل کړی مولوی مکتوب الیه دغه دوهم خط وکتی او ددی دواړو څخه یی دریافت وکی او دعید الفطر حکم یی ورکی، نودغه حکم ورکول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دمولوی مکتوب الیه دافطار کولو حکم په دی صورت کی صحیح دی اوحضرت مولانا رشید احمد گنگو قدس سره ترفتوٰی لاندی ددغه صورت واقعه داخله ده ([1]).

ددوو علتونو څخه بغیر شاهدی معتبره ده اوکه نه؟ **سوال**: (۵۷) دشهادت په ثبوت دوه سری سره له دی چی مطلع دشوال دهلال بی له علته وی که شاهدی ورکړی نومعتبردی اوکه نه؟

جواب: که چیری وریځ اوگرد اوغبار پرآسمان باندی نه وی نودخلکو دلویی ډلی شاهدی ضروری ده چی دهغه څخه دظن غلبه حاصله سی. ([2]) کما فی الدر المختار وقبل بلا علة جمع عظیم یقع العلم الشرعی وهو غلبة الظن بخبرهم وهو مفوض الی رای الامام من غیر تقدیر بعدد عن المذهب وعن الامام انه یکتفی بشاهدین واختاره فی البحر الخ ([3]). فقط

دتار په خبرباندی عید درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۵۸) بمبئ، کراچی سکهر او دداسی نورو په شاهدی باندی دپانی پت، کرنال او ورسره نژدی کلیو په شنبه اختر وکی آیا دتار په خبرباندی اختر کول صحیح دی اوکه نه؟ که نه وی نودروژی قضاء لازمه ده اوکه نه؟

جواب: په حنفی مذهب کی بنه اومفتی به داده چی په هرځای کی چی رؤیت ثابت سی که څه هم هغه هرڅومره لیری ځای هم وی اوکه څه هم په زرگونو قوسه لیری وی دهغه ځای پرخلکو هم حکم دروژی دافطار کولو دی او ددوی سره به موافق سی لکه څنگه چی دفقهی په معتبر کتاب درمختار کی دی: واختلاف المطالع غیر معتبر علی ظاهر المذهب وعلیه اکثر المشائخ وعلیه الفتوٰی فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولٰئك بطریق موجب الخ ([4]). اوکله چی درؤیت خبر مستفیض سی یعنی

([1]). ولوکانوا ببلدة لاحاکم فیها صاموا بقول ثقة وافطروا باخبار عدلین مع العلة لضرورة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۲). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۷. ۳۸۸. ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم قبیل باب ما یفسد الصوم ج۲ ص ۱۳۱ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۳. ظفیر

([4]). قوله بطریق موجب کان یتحمل اثنان الشهاده اویشهدا علی حکم القاضی اویستفیض الخبر (ردالمحتار باب ایضا ج۲ ص ۱۳۲. ط. س. ج۲ ص ۳۹۴) نعم لواستفاض الخبر فی البلدة الاخرٰی لزمهم علی الصحیح =

دهرطرف څخه داسي خبرونه راسي چي مياشت راوختله اوپه ظن غالب سره يي صدق وسو نوپه دی سره په ټولو باندی عمل كول لازم سو، كذا فی ردالمحتار (١). نوپه دی مياشت درمضان المبارك كی دپنجشنبی داولی ورځ كيدلو خبرونه لدی څخه متواتر سويدی چی په هغه باندی عمل كول لازمی سويدی اوچاچی دجمعی په ورځ اوله روژه ونيوله نوپه هغوی باندی ديوی روژی قضا لازمه ده اوعيد كول يی دشنبی ضروری وو ځكه چی جمعه ديرشم درمضان وو، اوپه هغه كی څه شك نه وو لهذا په حكم د: فاذا غم عليكم فاكملوا العدة ثلثين (٢). دشنبی اختر كول ضروری سول.

دبی شميره تارونو څخه مفتی ته يقين وسو نوڅه كول ورته په كاردی؟ سوال: (٦٩) كه متعدد تارونه جمع سی اومفتی ته يقين هم ورسی نوشرعًا رؤيت هلال ثابت سو اوكه نه؟

جواب: په داسی حالت كی دمفتی په ظن غالب مياشت ثابته سوه حكم كول ورباندی جائز دی (٣).

دتار اوخط په اساس اختر كول جائزدی اوكه نه؟ سوال: (٧٠) دتار اودخط دخبر څخه اختر كول جائزدی اوكه نه؟

جواب: يوازی تار يا دخط په خبر باندی ټول معتبرنه دی. (٤) فقط

دتليفون خبر معتبر دی اوكه نه؟ سوال: (٧١) يوڅو مسلمانان ديوښار څخه چی د ٢٩ ميلو په فاصله باندی دتليفون په واسطه درمضان المبارك دمياشتی خبريی وركی، اودهغوی اواز هم رسيږی شرعًا دغه خبر معتبردی اوكه نه؟

جواب: يوازی دتار اودتليفون خبر شرعًا حجت نه دی البته كه ددی سره نور قرائن او خبرونه هم موجودوی نوپه هغه باندی عمل كول جائزدی، څنګه چی داوار كه څه هم په اكثره ځايونوكی دچهارشنبی په ورځ درمضان مياشت ونه ليدل سوه ليكن په كثرت سره خبرونه درؤيت اودپنجشنبی دروژه كيدلو راځی ددی وجه څخه دپنجشنبی څخه اولنی

= من المذهب (درمختار) فی الذخيرة قال شمس الائمة الحلوانی الصحيح من مذهب اصحابنا ان الخبر اذا استفاض وتحقق فيما بين اهل البلدة الاخرٰی يلزمهم حكم هذه البلدة الخ ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١٢٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٠). ظفير

(١). مشكوٰة باب روية الهلال فصل اول ص ١٧۴. ظفير

(٢). و. (٣). نعم لواستفاض الخبر فی البلدة الاخرٰی لزمهم علی الصحيح من المذهب مجتبی وغيره (درمختار) معنی الاستفاضة أن تأتي من تلك البلدة جماعات متعد دون كل منهم يخبر عن أهل تلك البلدة أنهم صاموا عن رؤية لا مجرد الشيوع ؒ (ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١٢٨ وص ١٢٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٠). ظ

(۴). نعم لواستفاض الخبر فی البلدة الاخرٰی لزمهم علی الصحيح من المذهب مجتبی وغيره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١٢٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٠). ظفير

روژه کیدل منل سوی اودشنبی اختر کول ضروری دی اوکمو خلگو چی اولنی روژه دجمعی په ورځ نیولی ده نوپه هغوی باندی دیوی ورځی قضاء لازمه ده (١). فقط

دشلو سړیو په شاهدی اعلان اوبیا انحراف: **سوال**: (١\٢٢) که چا دشلو کسانو شاهدی ومنله اودرؤیت هلال سره متفق سول او اعلان یی وکی، بیا دخپل قول څخه منحرف سول نوددی څه حکم دی؟

سره ددی څخه چی مطلع صاف وی نودیرش څلویښت شاهدان معتبر دی اوکه نه؟ **سوال**: (٢\ ٢٣) ددوو زرو څخه صرف دیرش څلویښت کسانو سره ددی چی مطلع صاف دی درؤیت هلال شاهدی ورکړه نوعند الشرع معتبردی اوکه نه؟

که مطلع صاف وی نودڅومره کسانو شاهدی معتبره ده؟ **سوال**: (٣\ ٢٣) په صاف مطلع کی دشاهدانو دشاهدی اخری درجه څومره ده؟

جواب: ١\، ٢، ٣،: که ددی ښار عالم یاقاضی که دا ومنی اوظن غالب دهغو خلگو صدق وی نودهغو پرشاهدی دصحیح حکم کول ضروری دی، اوکه دشلو کسانو دشاهدی څخه غلبه دظن حاصله سی اودهغه اعلان وکی نوبیا ددی په خلاف حکم کول نه دی په کار داغلطی ده ځکه چی دامام اعظم رحمه الله څخه ددوو کسانو شاهدی هم په صاف مطلع کی قبلیدل مروی دی بلکی که چیری دلوړ ځای څخه دبل ښار څخه دباندی یومعتبر سړی هم شاهدی ورکړی سره ددی چی مطلع صاف وو نودده شاهدی ته هم اعتبار ورکول کیږی:

وقبل بلا علة جمع عظيم يقع العلم الشرعي وهو غلبة الظن بخبرهم وهو مفوض إلى رأي الامام من غير تقدير بعدد على المذهب، وعن الامام أنه يكتفى بشاهدين، واختاره في البحر، وصحح في الاقضية الاكتفاء بواحد إن جاء من خارج البلد أو كان على مكان مرتفع الخ (٢). درمختار.

متعددو خلگو په یو ځای کی رؤیت بیان کی نو دبهر څخه راغلی خلک یی ومنی اوکه نه؟

سوال: (٢٤\) زه دمدرسی په ضرورت دلته راغلم زما په مخکی څوکسانو رؤیت هلال درمضان بیان کی، دلته اکثرو خلگو په ٢٩ دشعبان یوم جمعه دمیاشتی لیدل وسوه اوشنبه اولنی روژه سوه اوس زه وطن ته راغلم نوپه دی باندی راته عمل کول په کار دی او که نه؟

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢٢، ط. س. ج٢ ص ٣٨٧ – ٣٨٨. ظفیر

(٢). واما فی السواد اذا رأى احدهم هلال رمضان يشهد فی مسجد قرية وعلى الناس ان يصوموا بقوله بعد ان يكون عدلا اذا لم يكن هناك حاكم يشهد عند الخ (عالمگیری مصری کتاب الصوم باب الثانی ج١ ص ١٨٥، ط. س. ج٢ ص ١٩٨). ظفیر

جواب: په دی صورت کی رؤیت هلال دجمعی ثابت دی اودشنبی دروژی محقق کیدل ثابت دی ته چی وطن ته رارسیدلی یی نو ددی موافق خلګو ته حکم کول په کاردی یکشنبه دیرشم درمضان المبارك وګرځیدل ، او په هرحال ددوشنبی په ورځ داختر حکم کول په کاردی ([1]).

ددوکی په شاهدی باندی چی افطار وکی نوپه دی باندی قضاء اوکفاره سته اوکه نه؟ سوال:

(**٧٥**) په ٢٩ دشعبان دیکشنبی په ورځ بعضو خلګو میاشت لیدلی وه، اکثرو خلګو روژه ونیوله، اویوڅو کسانو ونه نیوله، نن دمنګل په ورځ څوکسانو داختر میاشت ولیدله چی پکښی دوه شاهدان داعتبار وړدی، په دی ډیرو خلګو روژه افطار کړه، اویو څو کسانو افطار نه کړه، په افطار کوونکو باندی څه کفاره واجب ده اوکه نه؟

جواب: داچی دمعتبرو شهادتونو څخه رؤیت هلال ثابت سوی دی نوافطار کول ضروری دی نوپه افطار کوونکو باندی هیڅ مؤاخذه اوکفاره نسته ([2]). فقط

ددوو کسانو په شاهدی اودمختلفو تارونو په اطلاع باندی دافطار حکم درست دی اوکه نه؟

سوال: (**٧٦**) ددوو کسانو په شاهدی اومستفیض خبر یعنی اولس عدده تار دمتفرقو ځایونو لکه کلکته، مکه مکرمه، جده، بمبئ، کوئټه، سکهر او دداسی نورو مختلفو هیوادونو څخه دتارونو اودخبرونو په بناء باندی فتوٰی ورکول سوه دافطار صوم، نوپه دی صورت کی دروژی افطار کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دروژی افطارول واجب نه دی، بلکه دافطار دجواز هم په مجرد دتار په خبر کی تردد دی، ځکه چی خبر دتار ښکاره ده چی دشرعیه قواعدو مطابق اعتبار نه لری البته دتعارف په وجه که چیری خبر دتار مفید وشمیرل سی، یادتار دتعدد په وجه ظن غالب پیداسی کیدی سی دافطار دجواز دپاره مفید سی نو هرچا چی روژه افطار نه کړه او روژه یی ونیوله نونه ګنهګاریږی ([3]). فقط

که دیو چا د میاشتی لیدل معتبر ونه ګڼل سو او هغه روژه نیولی وه، ددیرشو روژو پوره کولو

([1]). وشرط للفطر مع العلة والعدالة نصاب الشهادة الخ (درمختار) ای علی الاموال وهو رجلان او رجل وامراتان (ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١٢٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٦). ظفير

([2]). فيلزم اهل المشرق برؤية اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤية اولئك بطريق موجب (درمختار كان يتجمل اثنان الشهادة اويشهدا على حكم القاضي او يستفيض الخبر بخلاف، ما اذا اخبر ان اهل بلدة كذا رواه لانه حكاية (ردالمحتار قبيل باب مايفسد الصوم ج٢ ص ١٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٤). ظفير

([3]). راى مكلف هلال رمضان اوالفطر ورد قوله بدليل شرعي صام مطلقا وجوب وقيل ندبا فان افطر قضى فقط فيهما لشبهة الرد (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ٢١٢ ، وج٢ ص ١٢٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٤). ظفير

څخه وروسته هم دمیاشتي په عدم موجودګي کي باید یو دیرشمه روژه ونیسي: **سوال**: (۲۷) یوسړي درمضان میاشت ولیدله په څه وجه یې شاهدي ونه منل سوه لیکن دشرعي قاعدي مطابق یې روژه ونیوله اودټولو خلګو رمضان یوه روژه وروسته شروع سو اوچي کله یې دیرش روژي ونیولي اودنورو ټولو دا نه ویشت سوي اوسپوږمۍ ونه لیدل سوه اودادي اوس بله ورځ روژه نیول کیږي نوپرده یودیرشمه روژه نیول واجب اوده اوکه نه؟ که وي نه نیسي نوګنهګاریږي اوکه نه؟ اوچي وي نه نیسي نوقضاء واجبیږي که کفاره؟

جواب: په ده باندي یودیرشمه روژه نیول واجب دي اوکه خوړلي یې وي نوبیا پرده باندي یوازي قضاء واجب ([1]) ده. فقط

د۲۹ درمضان څخه وروسته په زوال میاشت ولیدل سوه نوبایدڅه وسي؟ سوال: (۱۸) درمضان په ۲۹ تاریخ دزوال څخه وروسته دشوال سپوږمۍ ولیدل سوه اوس باقي مانده ورځ روژه ونیول سي اوکه وي خوري؟

جواب: روژه دي ونیسي. کذافی الدر المختار ([2]). فقط

دمیاشتي دلیدلو په سلسله کي دلیري پرتو ښارونو اعتبار سته اوکه نه؟ سوال: (۲۹) په امرتسر اونورو کي درمضان درؤیت هلال په هکله اودعید الفطر په هکله اختلاف وي نوموړ دمنلوله سي یې اوسیدونکو ته دنورو ښارونو چي دهغوی فاصله تر لیري حده پرته ده په متابعت کولو سره عمل کول په کاردي اوکه نه دي؟

جواب: داحنافو په نزد اختلاف دمطالعو ته اعتبار نسته داهل مشرق په رؤیت په اهل مغرب باندي هم لازمیږي اوبالعکس که په معتبره طریقه ثابت سي. کذا فی الشامی وفی الدرالمختار واختلاف المطالع ؒ غیره معتبر علی ظاهر المذهب فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق موجب ([3]) وفصل الشامي ذلك الطریق الموجب فلینظر فیه ([4]). او دحدیث صحیح: صوموا لرؤیته وافطروا لرؤیته ([5]) مقتضی هم داده، ځکه چي خطاب دصوموا او دافطروا عام دي دټولو دپاره حاصل

([1]). ورؤیته بالنهار لیلة مطلقا علی المذهب (درمختار) ای سواء روی قبل الزوال اوبعده (ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی رؤیة الهلال نهارا ج۲ ص ۱۳۰ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۲). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم قبیل باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۳۱ وص ۱۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۴. ظفیر

([3]). ایضا ط. س. ج۲ ص ۳۹۴. ظفیر

([4]). بطریق موجب کان یتحمل الشهادة اثنان او یشهدا علی حکم القاضی اویستفیض الخبر (ردالمحتار ایضا، ط. س. ج۲ ص ۳۹۴). ظفیر

([5]). مشکوة باب رؤیة الهلال ص ۱۷۴. ظفیر صدیقی

داچی کله رؤیت هلال وسی که څه هم هر ځای وی، نو ټولو ته روژه او افطار ددې موافق کول پکار
دی یعنی چی کله رؤیت ثابت سی. کما هو ظاهر. فقط

یوه سپوږمی نن سهار په مشرق کی ولیدل سوه نوسبا ماښام ددوهمی میاشتی لیدل ممکن دی اوکه نه؟ **سوال**: (۷۰) یوه سپوږمی نن سبا په طرف دمشرق کی ښکاره سوه اوپه نظر راغله نو سباته ماښام ددوهمی میاشت لیدل ممکن دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ولاعبرة بقول الموقتین (درمختار) ای فی وجوب الصوم علی الناس بل فی المعراج لایعتبر قولهم بالاجماع ولا یجوز للمنجم ان یعمل بحساب نفسه الخ ([1]) نوکله چی اهل توقیت اواهل نجوم اواهل حساب ته هم په شرع کی اعتبار نسته نودعوامو تهمت په مذکوره بناء څه ډول صحیح کیدی سی اودحساب په قاعده هم که نن سهار سپوږمی په مشرق کی ولیدل سی نوبله ورځ ماښام میاشت لیدل کیدی سی. کما هو مشاهد. فقط

دغیر معتبر شاهدی قابل قبول نه ده؟ **سوال**: (۷۱) که په یو ښار کی مطلع صاف نه وی او دوه ضعیف البصر کسان چی غیر عادل وه چی خلګو غیر معتبر ګڼل اوغیر عادل یی ګڼل دشاهدی بیان ورکی، اوامام صاحب دهغوی په شاهدی فتویٰ ورکړه دپنج شنبی په ورځ دلوی اختر لمونځ ادا کی، عوام الناس دواړه شاهدان غیر عادل اوغیرمعتبر بیانوی اوامام صاحب وویل چی په شاهدی کی عدالت شرط نه دی محض دوی کلمی ویونکی کلمه وویل اوپه قسم باندی یی شاهدی ورکړه په دی صورت کی په پنج شنبه دعید الاضحیٰ لمونځ اوقربانیانی جائزدی اوکه نه؟

جواب: دشاهدانو عدالت درؤیت هلال دثبوت دپاره ضروری دی دغیر معتبرو اودغیر عادلو شاهدانو په شاهدی سره عید الاضحیٰ نه ثابتیږی ([2]) په دی صورت کی چی په پنجشنبی اختر سویدی هغه صحیح نه دی اوقربانی هم صحیح نه ده، دجمعی اختر کوونکی اوقربانی کوونکی پرحقه دی. فقط

شاهدی علی القضاء: **سوال** : (۷۲) فی ردالمحتار بخلاف الشهادة علی الشهادة فی سائر الاحکام حیث لا

([1]). ردالمحتار کتاب الصوم ص **۱۲۵** مطلب لا عبرة بقول الموقتین ، ط. س. ج۲ ص **۳۸۷**. ظفیر

([2]). للصوم مع علة کغیم وغبار خبر عدل اومستور الحال الخ لافاسق اتفاقا (درمختار) اما مع تبیین الفسق فلا قائل به عندنا (ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۳ وص ۱۲۴ ، ط. س. ج۲ ص **۳۸۵**) وهلال الاضحی وبقیة الاشهر التسعة کالفطر علی المذهب الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۳۰ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۱). ظفیر

تقبل ما لم يشهد على شهادة كل رجل رجلان اورجل وامرأتان الخ وفى الدرالمختار احكام هلال الفطر مع العلة والعدالة نصاب الشهادة ولفظ اشهد وعدم الحد فى قذف لتعلق نفع البدل لٰكن لاتشترط الدعوى ([1]) وان سقط لفظ الشهادة لضرورة لٰكن يبقى بقية الاحكام كمامر من ردالمحتار بخلاف الشهادة على الشهادة فى سائر الاحكام اى فى غير احكام هلال رمضان.

دغو رواياتو ته په نظر سره دلاندى مسئلى موافق څه جواب دى، زيد درؤيت هلال په باقاعده شاهدى ورکولو سره په خپل ښار اله اباد کى دافطار حکم ورکى اوس بکر چى په دى وخت کى په اله اباد کى اوسيږى دکانپور ښارته ولاړى ددى خبرى خبريى ورکى چى زيد په اله اباد کى باقاعده شاهدى ورکړى دافطار حکم يى ورکى نواوس تاسى خلګ هم افطار وکى داخو ښکاره ده چى دکانپور خلګ صرف دبکر په شاهدى باندى افطار نسى کولى ځکه چى په فطر کى عدد هم شرط دى مګر شك دادى چى دبکر شاهدى پرشاهدى على القضاء ده چى په حکم کى دشهادت على الشهادة دى، ځکه نو اوس صرف ديوه بل سړى دشهادت ضرورت دافطار صوم دپاره دى اوکه ددرى نورو کسانو دپاره ځکه چى داول رؤيت مطابق لکه څنګه چى دفطر دپاره ددوو شاهدانو دشاهدى ضرورت دى اودشاهدى على الشهادت په صورت کى دهر سړى دپاره دوه دوه پکاردى ددى وجى دبکر څخه علاوه ددرى کسانو دشاهدى على الشهادة ضرورت معلوميږى، همدا رکم چى ددوو کسانو شاهدى على الشهادت ديوه سړى څخه ورکړى هم دغه دوه کسان يوبل سړى ته شاهدى على الشهادت ورکړى نودا کافى دى اوکه نه دى؟ آيا ددوهم اودريم روايت څخه دا معلوميږى چى دهلال رمضان داثبات دپاره لفظ داشهد شرط دى اودهلال فطر دپاره نه، حالانکه دهلالِ رمضان داثبات دپاره هم ليدل کيږى چى دشاهد څخه دانه غوښتل کيږى چى زه شاهدى ورکوم چى ما مياشت ليدلى ده، ګواکى ددى معنٰى ضرورى اوښکاره ګڼل کيږى، نوقاضى ته درمضان دسپوږمى له رايى څخه دشاهدى پروخت ايا دلفظ داشهد ترجمه لفظاً ويل ضرورى دى، اوهمداركم آيا ددريم روايت څخه داثابتيږى چى دشاهدى على الشهادت په صورت کى درمضان دهلال دپاره صرف ديوه شاهد ضرورت دى په خلاف دثبوت دهلال دفطر چى دڅلورو کسانو ضرورت دى کمامر.

جواب: په شاهدى على الشهادت کى دوه شاهدان دواړه دشاهدانوشاهدى کولى سى لکه

([1]). الدر المختار على هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٢. ظفير

ځنګه چې دهدايې دمشموله عبارت څخه واضحه ده اوپه شاهدی علی حکم القاضی کی هم دوه شاهدان کافی دی لکه څنګه چې دشامی په منقوله عبارت کی تصریح ده.
درمضان دهلال په اثبات کی داشهد لفظ ته ضرورت نسته اوپه فطر کی ورته ضرورت دی کماصرح به فی الدر المختار، وحققه الشامی. عبارت متعلقه جواب: هذا:
وقبل بلا دعوی وبلا لفظ الخ لصوم مع علة الخ خبر عدل الخ (١) ويجوز شهادة شاهدين على شهادة شاهدين، وقال الشافعی رحمه الله لا يجوز الا الاربع على كل اصل اثنان الى ان قال ولنا قول علی لا يجوز على شهادة رجل الا شهادة رجلين ولان نقل شهادة الاصل من الحقوق فهما شهدا بحق ثم شهدا بحق اخر (٢) وقال فی الدرالمختار فيلزم اهل المشرق برؤية اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤية اولئك بطريق موجوب الخ وفي رد المحتار قوله بطريق موجب كان يتحمل اثنان الشهادة اويشهدا على حكم القاضی اويستفيض الخبر الخ (٣) ج٢ ص ٩٢ وفی الدرالمختار وقبل بلا لفظ اشهد وبلاحكم ومجلس قضاء الخ لصوم مع علة كغيم وغبار خبر عدل الخ (٤). وفيه شرط للفطر مع العلة والعدالة نصاب الشهادة ولفظ اشهد الخ (٥). فقط

ددوو معتمدو په شاهدی باندی افطار درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (٧٣) ددی ځای څخه دمنګل په ورځ یوڅو کسانو داشاهدی ورکړه چې موږ میاشت ولیده اوپه دوی کی دوه کسان داسی دی چې دلمانځه او دروژی پابند دی دهغوی په شاهدی یی دروژی افطار وکی نوپه اختر کی داجائزدی اوکه نه؟ اوددی روژی قضایی دی وسی اوکه نه؟
جواب: په دی صورت کی شاهدی ددوو شاهدانو کمو چې سپوږمی لیدل بیان کړی او لمونځ ګذاره دی معتبره ده، که وریځ وی نوپه شاهدی باندی افطار کول اواختر کول درست دی، ددی روژی قضاء لازمه نه ده. هكذا في كتب الفقه. (٦) فقط

دډاک په واسطه باندی اطلاع دهلال دثبوت: **سوال**: (٧٤) په یوه ښار کی دننه درؤیت هلال ثبوت یوبل ته ورسیدی اوددغه علاقی عالمانو دمیاشتی دلیدلو خبر ورکی، اودغه حکم یی دډاك په ذریعه دنورو ښارونو مفتی ته ولیږی هغه ددی فتوٰی په بناء دغه حکم

---

(١). الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١٢٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٥. ظفير
(٢). هدايه باب الشهادة على الشهادة ج٣ ص ١٥٤. ظفير
(٣). ردالمحتار قبيل مايفسد الصوم ج٢ ص ١٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٤. ظفير غفر الله ذنوبه الجلیّ والخفی
(٤). الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١٢٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٢. ظفير
(٥). الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١٢٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٢. ظفير
(٦). وشرط للفطر مع العلة والعدالة نصاب الشهادة (درمختار) ای على الاموال وهو رجلان اورجل وامراتان (ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١٢٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٢). ظفير

جاري ساتلی سی چی دډاك په واسطه یی لیږلی دی اوکه په موافق دکتاب القاضی الی القاضی خاص شاهد راوستل غواړی؟

جواب: په دی ډول امورو کی خط اعتبار لری ځکه چی ددی دصدق قرائن موجود دی او دشك شبهه پکښی نه وی (١). فقط

ددیرشم دشعبان څخه چی دیرش روژی پوره کړی نوافطار کول څنګه دی؟ سوال: (٧٥) په دیرشم درمضان زید فرضی روژه ونیوله اوبیا ددیرش روژو پوره کولو څخه وروسته یعنی دیرشم درمضان بغیر درؤیت دهلال څخه اودشرعی شاهدی څخه دمحض جنتری په حساب یادځپل نظر څخه ده فرضی روژه وخوړله اوټولو ښکاره فتوٰی ورکړه چی نن اختر کول ناجائزدی ځکه چی نن دیرش روژی پوره سوی اوپه جنتری کی یی هم لیکلی دی چی میاشت ختلی ده خوصرف دوریځی دوجه څخه درؤیت ثبوت نه کیږی داخبره چی اکثرو خلګو واوریده نوپه ډیره بی باکی یی روژه ماته کړه اواختر یی وکی اوعمر درمضان درؤیت څخه وروسته فرضی روژه اودپوره دیرشو روژو نیولو څخه وروسته دشوال میاشت ولیدله اواختر یی وکی په دی صورت کی څوك خطا دی اوڅوك مصیب دی اوڅوك چی خطا سوی آیا پرهغه باندی دروژی قضاء واجب ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی زید پرخطاء دی اوعمر مصیب دی اودروژی دقضاء په باره کی داتفصیل دی چی که وروسته په بل ځای کی رؤیت دزید دګمان مطابق وی اوددی ثبوت باقاعده سی نوقضاء لازمه نه ده اوکه نه بیا نو لازمه نه ده. (٢) فقط

دیرش روژی پوره کړی: **سوال**: (٧٦) دلته په رای پورکی دعید الفطر لمونځ دوریځی په وجه په ٢٩ درمضان المبارك دمیاشتی دنه پیدا کیدو په وجه په اتفاق دمسلمانانو دراپی دیرش روژی پوره کړی پنجشنبه یی ماته کړه له دی څخه وروسته په ٢٩ دشوال دپنج شنبی په ورځ دذی القعدی میاشت هم دوریځی په وجه ونه لیدل سوه علی هذا

---

(١). فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق موجب (درمختار) کان یحتمل اثنان الشهادة اویشهدا علی حکم القاضی اویستفیض الخبر بخلاف اذا اخبرا ان اهل بلدة کذا رأوه لانه حکایة (رد المحتار کتاب الصوم قبیل باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٣٢. ط. س. ج٢ ص ٣٩۴) . ظفیر

نعم لواستفاض الخبر فی البلدة الاخرٰی لزمهم علی الصحیح من المذهب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٠). ظفیر

(٢). وبعد صوم ثلاثین بقول عدلین حل الفطر الخ ولو صاموا بقول عدل حیث یجوز وغم هلال الفطر لایحل علی المذهب (درمختار) والحاصل انه اذا غم شوال افطروا اتفاقا اذا ثبت رمضان بشهادة عدلین فی الغیم اوالصحوا الصوم ج٢ ص ١٢٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٠) او په مسئوله صورت کی خو اټکل سوی دی نو ددی وجه څخه قضاء واجب ده. ظفیر

القياس دذوالحجی میاشت هم په ۲۹ دذو القعدی دوریځی په میاشت ونه لیدل سوه نوپه دی وجه په عید الاضحیٰ کی اختلاف سو یعنی یوی ډلی یوه میاشت ۲۹ اوبلی دیرش شمار کړی اوبغیر درؤیت هلال دشاهدی څخه یی دارایه ورکړی چی سه شنبه عید الضحیٰ کول په کاردی، اخر داچی په سه شنبه باندی دعید الضحیٰ لمونځ اداء سو او بلی ډلی دوریځی له وجه دمیاشتی دنه لیدلو اودرؤیت دشاهدی دنه ورکولو په وجه دواړی میاشتی شوال اوذی القعدة دیرش دیرش ورځی یی شمار کړی او چهارشنبه یی عید الاضحیٰ کړه، په دواړو ډلو کی دچا فعل دشریعت موافق دی؟

جواب: شرعی قاعده داده چی که په ۲۹ باندی سپوږمی ونه لیدل سوه اودیو بل ځای څخه هم دمعتبرو ذریعو درؤیت خبر رانغی نودیرش روژی دی پوره کړی اوبله میاشت دی شروع کړی لهذا دشریعت مطابق هغه خلګ دی چی هغوی په مذکوره صورت دیرش دیرش ورځی یی پوره کړی، اوهغه خلګو چی بی دکم ثبوت څخه یوه میاشت ۲۹ اویوه ۳۰ فرض کړه اواختر یی وکی دوی په خطا دی که څه هم سه شنبه لوی اختر کول درؤیت هلال مطابق محقق سوی دی څنګه چی ددیوبند اودهغه په اطرافو کی هم دشنبې په ورځ باندی رؤیت دهلال دذی الحجی وسو اویکشنبه دذی الحجی په اول پاته سوه اوپه سه شنبی لوی اختر وسو اوپه دی باره کی نص مشهور حدیث دی: صوموا لرؤیة وافطروا لرؤیة. ([1]) الحدیث

دتار په خبر باندی اختر کول څنګه دی؟ سوال: (۷۷) که یو مسلم رئیس خپلو مسلمو حکامو ته داتار ورکی چی سپوږمی ولیدل سوه نوپه دی تار باندی دروژی افطار اواختر کول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: داخبر شرعًا معتبرنه دی اومحض په تار باندی افطار کول صحیح نه دی اودفقهی په کتابونو کی ددی تحقیق دی، په شامی کی طریقی دموجب چی په نورو رؤیت لازم سویدی داسی لیکلی دی چی دوه معتبر کسان دشاهدی متحمل که دقاضی حکم ته شاهدی ورکړی اویا خبر متواتر سی، نو ښکاره ده چی په تار کی ددغو وجوهو څخه یوه هم نه ده موجوده سوی ([2]). فقط

په خط باندی افطار کول درست دی اوکه نه؟ سوال: (۷۸) دیوعالم دخط په ذریعه معلومه سوه چی میاشت په ۲۹ لیدل سوی ده نودا حجت دی اوکه نه؟

([1]). مشکوٰة باب رؤیة هلال ص ۱۷۴. ظفیر

([2]). اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق موجب (درمختار) کان یحتمل اثنان الشهادة اویشهدا علی حکم القاضی او یستفیض الخبر (ردالمحتار کتاب الصوم قبیل باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۴). ظ

جواب: خط حجت نه دی خوکه چیری دقرائنو څخه یی صدق معلوم سو نودرست ([1]) دی. فقط

<u>وروسته چی په ٢٩ میاشت ثابته سی نوڅه وکړی؟</u> سوال: (٧٩) په ٢٩ دشعبان دجادره څخه درؤیت هلا تاردلته راغلی وو لیکن موږ وربادی عمل ونه کی وروسته داخباری خبرونو څخه بعض ځای ٢٩ دشعبان درؤیت حال معلوم سو، نوسوال دادی چی اوس ٣٠ جون دشوال اول زموږ په اړه هم ضروردی اوکه نه؟

جواب: ٢٩ دشعبان دجمعی په ورځ درمضان المبارك دهلال رؤیت وسو دعامی شاهدی اودمتواترو خبرونو څخه ثابته اومحقق شوال دی اوشنبه اولنی روژه مسلمه سویده نو هغه خلګو چی شنبه روژه نه ده نیولی پرهغو باندی قضاء ددی روژی لازم ده اودعید سپوږمی که په شنبه ونه لیدل سی نویکشنبه به دیرشم درمضان اوروژه وی، په دوشنبی ٣٠ دجون باندی اختر کول ضروری دی ([2]). فقط

<u>اختلاف دمطالعو په نزد داحنافو</u>: **سوال**: (٨٠) داحنافو په نزد اختلاف دمطالعو معتبردی اوکه نه دی؟ که نه وی نوترڅومره لیری پوری چی خبر درؤیت دهلال ورسیږی او د موجبی طریقی څخه ثابت سی نوقبلول کیږی به؟ اوکه اختلاف معتبروی نو دیوه مطلع حد شرعًا څه شی دی؟ نوهغه صورت یعنی اعتبار داختلاف یادعدم اعتبار حکم درؤیت دتمام ملك په واسطه یوشی دی اوکه جلادی؟ دیوه ښار دمفتی یا دیوه دیندار عالم په نزد درؤیت هلال ثبوت دشرع شریف په موجب وسو او هغه ددی رؤیت دثبوت خبر دبل ښار مفتی یادیندار عالم ته دتلیفون دآلی په واسطی وکی چی پکښی خبر ورکوونکی اومخبر الیه یو دبل اواز په ښه طریقی سره واوریدی اووی پیژندی اودخبرو په وخت دغیر واسطه هم ونه سوه اودمخبر الیه ددی خبر په تصدیق کی هیڅ قسم شك نه دی سوی نوپه دی خبر باندی عمل کول درست دی اوکه نه؟

جواب: داحنافو په نزد باندی دمطالعو اختلاف مطلقا معتبر نه دی تردی پوری چی اهل مغرب سپوږمی ووینی نوپراهل مشرق باندی لازمیږی په دی شرط چی دموجب په طریقی دهغه رؤیت اهل مغرب ته معلوم اوثابت سی. قال فی الدر المختار واختلاف المطالع الخ غیر معتبر علی ظاهر المذهب الخ فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا

---

[1]. اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق موجب (درمختار) کان یحتمل اثنان الشهادة اویشهدا علی حکم القاضی او یستفیض الخبر (ردالمحتار کتاب الصوم قبیل باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٤). ظ

[2]. نعم لواستفاض الخبر فی البلدة الاخرٰی لزمهم علی الصحیح الخ وبعد صوم ثلاثین بقول عدلین حل الفطر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢٨ – ١٢٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٠). ظفیر

ثبت عندهم رؤية اولئك بطريق موجب (١). الخ اوپه ردالمحتار کی دطریق موجب تشریح په دی طریقی سره کړی: کان یحتمل اثنان الشهادة اویشهد اعلی حکم القاضی او یستفیض الخبر بخلاف ما اذا اخبرا ان اهل بلدة کذا راوه لانه حکایة الخ (٢). نو ددی څخه داهم واضحه کیږی چی دتار اوتلیفون په ذریعه چی درؤیت خبر نورو ښارونو ته معلوم سوی دی معتبرنه دی ځکه چی دطریق موجب په دری واړو صورتو کی داپه یوه کی هم داخل نه دی.

په اختلاف دمطالع اوپه غلط خبر باندی اعتماد: **سوال**: (٨١) دکټك په ښار کی زید دکلکتی څخه راغی وی ویل چی دکلکتی دذکریا جومات امام په بمبئ کی درؤیت هلال خبر په ٢٩ دذی القعدی باندی دجمعی په ورځ داختر دقربانی کړی دی، لهذا تاسی هم داختر لمونځ مقررکی، دزید په ویلو سره دجامع جومات څولمونځ کوونکو دجمعی دلمانځه اعلان وکی ددی څخه وروسته عمر راغی او ذکر سوی لمونځ کوونکی یی جمع کړل او ورته یی وویل چی تاسی بغیر دعالم دشاهدی څخه څه ډول اعلان وکی اوعید الاضحٰی موکړی ددی څخه وروسته خالد راغی اوموجوده خلګو ته یی په سختی سره وویل چی داولنی فیصلی په خلاف کولو سره سخته خرابی کیږی، که مسلمانان په نهم تاریخ اتفاق وکړی اودعید الاضحٰی لمونځ وکی نوجائز دی غرض داچی دخالد په فشار باندی اکثره خلګو دعید الاضحٰی لمونځ په جمع کی وکی، اوس دبمبئ څخه داتحقیق سوی دی چی هلته داختر لمونځ په شنبه کی سوی دی په دی صورت کی شرعی مجرم زید دی اوکه مصلی اودخالد په نسبت څه حکم دی اواختلاف دمطالعو معتبردی اوکه نه؟ لکه چی دفقهی دکتابونو څخه چی ثابت دی چی دبلغاریا په مځکه کی ٢٣ ساعته ورځ اویو ساعت شپه وی نودمطالعو اختلاف ته خبر ورکول په کاردی؟ دتار خبر اعتبار لری اوکه نه؟

جواب: داحنافو مذهب دادی چی دمطالعو اختلاف ته اعتبار نسته یعنی په حقیقت کی خو اختلاف دمطالعو واقع دی خوشرعًا هغه ته څه اعتبار نسته نوکه په مغرب کی میاشت ولیده اوپه موجبی طریقی سره اهل مشرق ته خبر ورسیدی نو اهل مشرق دی هم په دی باندی عمل وکی. کما قال فی الدرالمختار: اختلاف المطالع ﷺ غیر معتبر علی ظاهر المذهب ﷺ فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة اولئك بطریق

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی المطالع ج٢ ص ١٣١ – ١٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٣. ظفیر

(٢). ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی اختلاف المطالع ج٢ ص ١٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٣. ظفیر

موجب ؒ ، شامی په ردالمحتار کی فرمايي: قوله : بطريق موجب كان يتحمل اثنان الشهادة او يشهد على حكم القاضي او يستفيض الخبر بلا خلاف ما اذا اخبر ان اهل بلدة كذا رأوه لان حكاية ؒ ص ۹۲ - ۹۷ جلد ثانی شامی [۱].

ددی عبارت څخه داهم واضحه سوه چی دسوال په صورت کی خالد پرغلطه وو اودزيد په ويلو باندی چی څومره خلگو دجمعی په ورځ دلوی اختر اعلان وکی هغوی په خطا وو ځکه چی په دی صورت کی هيڅ معتبره شاهدی دبمبی څخه په رؤيت کی نه وه يوازی په دومره خبر باندی چی زيد راغی اووی ويل چی په کلکته کی دبمبئ په خبر باندی دلوی اختر اعلان دجمعی دورځی وسو، اهل كټك ته دجمعی دورځی دلوی اختر کول جائزنه وو بلکی دجهالت په وجه خلگو دزيد په ويلو داسی وکړل اوخالد بياپه جهالت باندی ددی تائيد وکی ليکن څه چی وسول خالد اونورو ته دخپلی غلطی اقرار اوندامت اوبه کول پرلازم دی اوپه ائنده کی په دی قسم خبر باندی عمل کول پکارنه دی بلکی ترڅو چی په معتبره طريقه شرعًا رؤيت ددوهم ځای څخه رانسی تردی وخته په دی باندی عمل کول نه دی په کار اوچی كله وروسته بيا ددی څخه دمعتبرو طريقو څخه دبل ځای څخه دهلال رؤيت خبرراسی نوعمل کولورباندی پکاردی. كمامر عن الدرالمختار ان اهل المشرق يلزمهم برؤية اهل المغرب [۲]. اودتار خبر دشرعی قواعدو په بناء معتبر اوواجب العمل نه دی ليکن كه دنورو قرائنو څخه ياداخبار له تعداد څخه ظن غالب ددی صدق وکړی نوبيا په دی باندی عمل کول درست دی ځکه چی ظن غالب ته په دی باره کی اعتباردی ددی وجه كه دخط څخه غالب ظن حاصل سی نوپه دی باندی هم عمل کول درست دی اوخط ته به په دی باره کی اعتبار ورکول وی چی معلوم دی چی داخط دداسی شخص دی چی دنومه څخه يی راځی او: الخط يشبه الخط، په دی موقع کی ملحوظ نه وی. كما صرح به الفقهاء من اعتبار الخط فی المعاملات [۳]. فقط

دريم باب

يوم الشک يعنی دمياشتی دنه ليدل كيدو په صورت كی ددیرشم دشعبان روژه په ۲۹ دشعبان باندی مياشت ونه ليدل سوه مگر په دی اميد چی شايد دسپوږمۍ خبر راسی

---

(۱). ردالمحتار كتاب الصوم ج۲ ص ۱۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۳. ظفير

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الصوم ج۲ ص ۱۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۴. ظفير

(۳). وفي الاشباه لايعمل بالخط الافی مسئلة كتاب الامان ويلحق به آت ودفتر بياع وصراف وسمسار وجوزه محمد وقاض وشاهدان تيقن به قيل وبه يفتی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب كتاب القاضی الی القاضی ج۴ ص ۴۸۹ ، ط. س. ج۵ ص ۴۳۵). ظفير صديقی

یو چا روژه ونیوله نوځه حکم دی؟ سوال: (٨٢١) په نه ویشتم دشعبان که دوریځی په وجه میاشت ونه لیدل سی نودیرشم دشعبان په دی نیت روژه چی که دسپوږمی خبرراغی نو داروژه به درمضان وی اوکه نه نفل به وی داجائزدی که ناجائز، اوکه دسپوږمی خبرراغی نوداروژه درمضان ده اوکه نه؟

جواب: ددی تردد سره فقهاؤ روژه نیول مکروه گرځولی ده اوصحابه کرامو ﷺ په دی سړی باندی دعاصی اطلاق کړی دی. کما ورد من صام یوم الشك فقد عصی ابا القاسم ﷺ (١). اومحمول دی په هغه سړی باندی چی په فرض نیت سره ددغی ورځی روژه نیسی یاپه دی طریقه چی په سوال کی درج دی اوکه محض نیت دنفلو وکړی نوبیادرسته ده په هرحال که دسپوږمی خبرراغی نوهغه به درمضان شریف وی. الا بان ظهرت فعنه ای عن رمضان (٢).

په ٢٩، ٣٠ باندی په سپوږمی کی داختلاف په وجه دچا روژی چی دیرش سی اودچا داچی ٢٩ نودچا دامعتبر وگنل سی؟ سوال: (٨٣١) دهلال رمضان په رؤیت کی اختلاف سو په بعضو ځایونو کی دنه ویشتو ورځو په حساب روژه ونیول سوه اوپه بعضو ځایونو کی ددیرشو په حسابو کمو خلگو چی د٢٩ ورځو په حساب روژه نیولی ده دهغوی په نزد دیرش روژی درمضان شریف وی سباته عید دی ځکه چی دیرش روژی یی پوره سوی دی اوچاچی دیرش ورځی دشعبان پوره کړی دی اوروژه یی ونیوله دهغوی په نزد نه ویشتم درمضان دی اوپه دی تاریخونو کی وریځ وه په دی صورت کی څه کول په کاردی اختلاف دمطالعو معتبر دی اوکه نه؟

جواب: اختلاف دمطالعو عند الحنفیة اعتبار نه لری که په یوځای کی په نه ویشتو باندی میاشت راوختله اوهغه شرعًا ثابته سوه نوبل ځای ددی حساب څخه روژه لازمه ده کمو خلگو ته چی وروسته اطلاع وسوه اوهغوی ددیرشو په حساب روژه نیولی وه نودادی هم دنه ویشتو والا موافق اختر وکی اویوه روژه دی مخکی قضاء راوگرځوی اوکه ٢٩ والا بی دشرعی ثبوت څخه روژه ونیوله نودهغوی اوله روژه معتبره نه ده هغوی ته په کاردی چی ددیرشو والا اتباع وکړی اودهغوی سره موافق اختر وکړی.

---

(١). وگوری ردالمحتار کتاب الصوم مبحث فی یوم الشك ج٢ ص ١٢١ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨١. ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم مبحث فی یوم الشك ج٢ ص ١٢٠، ط. س. ج٢ ص ٣٨١، پوره عبارت دادی: ولا یصام یوم الشك هو یوم الثلاثین من شعبان ؁ الا نفلا ویکره غیره ولو صامه لواجب آخر کره تنزیهاً ولو جزم ان یکون عن رمضان کره تحریما ویقع عنه فی الاصح ان لم تظهر رمضانیته والا بان ظهرت فعنه (ایضا). ظفیر

الغرض داچې په يوځای کی ثابت سول نوشرعًا دی معتبر وګڼل سی په بل ځای کی به لازم سی مثلاً که ثابته سوه چی چهارشنبه اول درمضان دی نو دجمعرات په ورځ پرروژه نیوونکو یوه قضائی روژه لازمی ده اوپه جمعه ټولوته اختر کول ضروری دی اوداخیال چی دجمعی سپوږمی ولیدلی سوه نودا ددی شپی ده شرعًا اعتبارنه لری اوداخیال غلط دی (قال فی الدرمختار واختلاف المطالع الخ غير معتبر علی ظاهر المذهب وعليه اكثر المشائخ وعليه الفتوى الخ فيلزم اهل المشرق برؤية اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤية اولئك بطريق موجب ، الخ). ([1]) فقط

په ٢٩ دشعبان په سپوږمی کی اختلاف وسو يوچا د٢٩ دحساب څخه روژه ونیوله نو اختر کله وکړی ؟ سوال: (٨٣) یوه ښځه چی دخپل لمانځه او روژو پایبنده ده زما په مخکی ئی ذکر وکی چی دی دشعبان میاشت دخپلی مرور سره یوځای په دوشنبه کی ولیده نوددی حساب چهارشنبه ٣٠ دشعبان سوه نوچونکه ډیر وروسته زماپه دی بیان باندی یقین راغی ددی وجه څخه مادپنج شنبی څخه وروسته ددیرشو روژو څخه دشعبان دمیاشتی روژه ونیوله په بهوپال کی دقاضی صاحب اودمفتی صاحب اختلاف دی، مفتی صاحب درمضان دمیاشتی لیدلو ته اعتبار ورکړی اوقاضی صاحب ددیرش روژو په پوره کولو باندی فتوٰی ورکړه اوس ما غریب ته څه کول په کاردی دروژی دافطارولو په باره کی.

جواب: قال فی الشامی لوصام رائی هلال رمضان واكمل العدة لم يفطر الامع الامام لقوله ﷺ صومكم يوم تصومون وفطركم يوم تفطرون، رواه الترمذی وغيره والناس لم يفطر وانی مثل هذا اليوم فوجب ان لايفطر، نهر ([2]). ددی عبارت اودارکم دنورو عباراتو څخه دا واضحه کیږی چی ذکر سوی سړی به دټولو سره په صوم فطرکی شریک کیږی لکه څنګه چی ټول کوی داسی دی دی هم وکړی.

دشک دوجه څخه دشعبان په دیرشم روژه نیول څنګه دی؟ سوال: (٨٥) دشعبان په دیرشم تاریخ احتیاطاً په دی نیت یی روژه ونیوله چی که دبهر څخه چادرمضان دسپوږمی ختلو خبر راوړی نوفرضی روژه اداء سوه اوکه داسی نه وه نونفلی سوه آیا داصورت جائزدی بی دمکروه اودنامکروه دبحثه؟ یوه واعظ دصحاح سته دحدیث پاك په حواله سره ویلی دی چی داډول روژی په قطعی توګه ناجائز دی، اوداډول روژه نیوونکی ګنهګاردی آیاکم حدیث دامتناع په صحاح سته وو کی سته؟ که وی نوعلماء ددی دجواز اوپه عدم جواز

([1]). الدرمختار علی هامش ردالمحتار قبيل باب مايفسد الصوم ج١ص ١٣١ - ٢٣٢ ، ط. س. ج ٢ ص ٣٣٩ - ٣٩٤ . ظفير

([2]). ردالمحتار كتاب الصوم بعد مبحث يوم الشك ج٢ ص ١٢٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨١. ظفير

کی ولی په اختلاف کی دی؟ اوچی په حدیث صحیح کی دی نوفقهاؤ ولی دجواز اقرار ورکړی دی؟

جواب: هغه حدیث پاك دممانعت دادی: من صام الیوم الذی یشك فیه فقد عصی ابا القاسم ﷺ، رواه ابوداود والترمذی والنسائی وابن ماجه والدارمی (١) ددی وجه څخه احنافو دالیکلی دی چی په یوم الشك کی یعنی په دیرشم درمضان روژه نیول دعوامو دپاره مکروه ده اودخواصو دپاره صحیح ده اوکم سړی چی دروژی نیت په یوم الشك کی تردد ونه کی بلکی په قطعی توګه دنفلو نیت وکی دا دخواصو څخه دی او ددې حدیث چی: من صام الخ. جواب یې په درمختار کی ورکړی دی چی: فلا اصل له، یعنی مرفوع کیدل یی بی اصله دی لیکن موقوفا ثابت دی.

په ٢٩ دشعبان چی میاشت دځه وجی څخه ونه لیدل سی نوڅه کول په کاردي؟ سوال: (٨٦) په ٢٩ دشعبان سپوږمی دوریځی دوجه څخه ونه لیدل سوه اودکم ځای څخه خبر هم رانغی اکثره خلګو اندازةً اوعقلا روژه اونیوله یعنی دشنبې نوپه دی صورت کی روژه ساتل جائزدی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی هم مسئله داده چی کله په ٢٩ باندی دوریځی په سبب یاداسی دنور څه په وجه میاشت ونه لیدل سی اوکم پوخ خبر باقاعده دمیاشتی هم رانغی نوبله ورځ روژه نیول په کاردی ځکه چی دایوم الشك دی اودیوم الشك دروژی ممانعت راغلی دی اوپه دی ورځ روژه مکروه (٢) ده البته دلس یوولس بجو پوری انتظار کول په کاردی ځکه چی که خبر راسی نوروژه به ونیسی، اوکه نه نوافطار دی وکړی، که چا روژه ونیوله بغیر دشاهدی یادخبر څخه نوده بد وکړل، اوکه وروسته ثابت سول چی دا درمضان ورځ ده نودرمضان روژه یی ادا سوله پرده باندی قضاء نه لازمیږی اوچا چی روژه ونه نیوله نوقضایی دی ونیسی (٣).

دیوم الشک ورځ که درمضان اولنی ورځ ثابته سوه نوایا فرض اداء سو؟ سوال: (٨٧) یوچا چی په یوم الشك کی روژه ونیوله وروسته بیا معلومه سوه چی دا اول درمضان وو، نودا روژه په رمضان کی شمیرل کیږی اوکه نه؟

---

(١). مشکوٰة باب رؤیة الهلال ص ١٧٤. ظفیر

(٢). ولا یصام یوم الشك وهویوم الثلاثین من شعبان الخ الا نفلا ویکره غیره (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١١٩ – ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨١). ظفیر

(٣). ولا یصام یوم الشك الخ الا نفلا الخ فان ظهرت فعنه ای عن رمضان (ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨١). ظفیر

جواب: درمضان په فرضی روژه کی حسابیږی دقضاء ضرورت (١) نسته.

دیوم الشک دروژی څه حکم دی؟ سوال: (٨٨١) دشك په ورځ روژه نیول درمضان په نیت څه حکم لری؟ که یوچاپه ذکر سوی نیت روژه ونیوله، نوافطار یی جائزدی اوکه ناجائز؟ اوهمدا رکم پرمفطر باندی قضاء اوکفاره لازمی دی اوکه نه؟

جواب: دشك په ورځ روژه نیول درمضان په نیت ناجائز اومنهی عنه اومکروه تحریمی ده فی الحدیث عن ابی هریرة ﷺ عن النبی ﷺ انه قال لا تقدموا رمضان بصوم یوم او یومین الا رجل کان یصوم صوما فلیصم، وقال فی الدر المختار: ولو جزم أن یکون عن رمضان کره تحریما. وفي ردالمحتار کره تحریماً للتشبه باهل الکتاب لانهم زادوا في صومهم وعلیه حمل حدیث النهی عن التقدیم بصوم یوم او یومین، بحر انتهٰی (٢)، وفی الجوهرة فان صام یوم الشك بنیة رمضان فلا خلاف بین العلماء انه لا یجوز انتهٰی (٣)، وقال فی البحر واختلفوا فی الصوم قال بعضهم یکره ویاثم کذا فی الفتاوٰی الظهیرة انتهٰی (٤). وقال في المستخلص شرح الکنز ولا یصام یوم الشك الا تطوعاً لقوله ﷺ لا یصام الیوم الذي شك فیه انه من رمضان او من شعبان الا تطوعاً ثم قال اعلم ان هذه المسئلة علی وجوه احدها ان تصوم بنیة رمضان وهو مکروه لما روینا ولانه تشبیه باهل الکتاب لانهم زادوا في مدة صومهم ثم ان ظهر الیوم من رمضان یجزیه لانه شهد الشهر وصامه وان ظهر انه من شعبان کان تطوعاً لکن اساء بارتکاب المنهي عنه وان افطر لم یقضه لانه المظنون (٥). انتهٰی

په دی کی شك نسته چی ددی عبارت مذکوره څخه واضحه اومبرهنه داده چی په دی ورځ کی روژه نیول په نیت درمضان جائزنه دی اوروژه دار آثم اوګنهګار دی نوبناءاً پر دغه په جواز دافطار کی شك نسته. کما هو ظاهر علی من له عقل سلیم ورأی مستقیم ولا قضاء علی المفطر لما قدمناه عن المستخلص وهو المذکور فی جمیع الکتب ولا کفارة علیه لما فی المتون لا کفارة بافساد الصوم غیر رمضان، الخ.

❊ ❊ ❊

(١). ولایصام یوم الشك الا نفلا الخ والا بان ظهرت فعنه ای عن رمضان (ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨١). ظفیر

(٢). والابان ظهرت فعنه ای عن رمضان (ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی یوم الشك ج٢ ص ١١٩ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨٠ – ٣٨١). ظفیر

(٣). ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٨١. ظفیر

(٤). البحر الرائق کتاب الصوم ج٢ ص ٢٨٥. ظفیر

(٥). مستخلص الحقائق شرح کنز الدقائق کتاب الصوم ج١ ص ..... ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٥. ظفیر

څلورم باب

هغه شيان چې روژه ورباندې نه ماتيږي

دروژې په حالت کې دمسواک وهل ښه دي اوکه نه؟ سوال: (١) (١١\ ٧٩) آيا په حالت کې دروژې مسواك وهل پكار دی اوكه نه؟

په روژه کې دمنجن (٢) استعمال څنګه دی؟ سوال: (٨٠\١٢) (ح) كله چې دوريو څخه وينه اونور مواد وزی نو آيا په روژه کې منجن چې وينه ودروی اومواد دفعه كوی استعمال يې جائزدی اوكه نه؟

دمنجن په استعمال سره روژه ماتيږي اوکه نه؟ سوال: (٨١\٣) (ح) دمنجن په استعمال سره روژه ماتيږی اوكه نه؟

جواب: ١\، ٢: جائزدی (٣)، (مگر چی كله منجن ومنبی نوسمدستی دی خوله پريمنځی اوتُف دی كړی چی نس ته يی اثر ولاړ نه سی، او منجن داسی وی چی عادةً نس ته نه رسيږی، خو احتياط كول يی ښه دی ځكه چی په هر حالت كی كراهيت تنزيهی دی. (٤) ظفير)

٣\: نه دی (٥). فقط

دروژې په حالت کې په سرکې تيل جذبول څنګه دي؟ سوال: (٨٢\) (ح) په روژه كی په سركی دتيلو دجذبولو څه حكم دی؟

جواب: صحيح دی بی دكراهته. كما فی الشامی وسياتی ان كل من الكحل والدهن غير مكروه الخ (٦).

---

(١). سره ددې چې دمخکنی سوال شمېر ٨٨ ؤ خوچونکه په اصل يعنی أردو فتاوٰی کی دا شمېر دوباره راغلی ؤ، ځکه نوموږ هم دلته مکرر راوړی، او ددې سره سره مو دفرق دپاره ورسره دا حرف (ح) زيات کړيدی، ترڅو چی دسوال شمېر دوباره ٨٩ ته رسيږی همدا حرف (ح) به ورسره ليکل کيږی. حقانی"

(٢). مِنْجَن : دغاښو صفا کولو دپاره يو قسم پوډر . فيروز اللغات (جامع) ص ١٢٩١ کالم ٢ . حقانی عفی عنه

(٣). ولاباس بالمسواك الرطب بالغداة والعشی للصائم لقوله ﷺ خير خلال الصائم السواك من غير فصل (هدايه باب مايوجب القضاء والكفارة ج٢ ص ٢٠٣) . ظفير

(٤). ومضغ العلك لايفطر الصائم لانه لايصل الى جوفه . (ايضا). ظفير

(٥). ايضا. ظفير

(٦). ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج٢ ص ١٣٤، او ادهن او اكتحل اواحتجم وان وجد طعمه فی حلقه الخ لم يفطر (درمختار) أي طعم الكحل أو الدهن كما في السراج ؒ قال في النهر: لان الموجود في حلقه أثر داخل من المسام الذي هو خلل البدن، والمفطر إنما هو الداخل من المنافذ، للاتفاق على أن من اغتسل في ماء فوجد برده في باطنه أنه لا يفطر (ايضا ج٢ ص ١٣٣ – ١٣٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٥ و ٣٩٢). ظفير

په پیشلمی کی پاڼ په کی خوله ایښوول اوبیده کیدل اوپه دی حالت کی سهار کیدل، څه حکم لري؟ **سوال**: (٨٣\١) یوسړی دپیشلمی په وخت کی پاڼ وخوړل، اوتُف یی نه کړل دپاڼ سوروالی یی په خوله کی وو چی ذکر سوی سړی بیده سو سهار نژدی رابیدار سو په دی وخت کی یی سُرخی سمد ستی تُف کړه نوروژه یی صحیح ده اوکه نه؟

جواب: صحیح ده مګر احتیاط دادی چی ددی روژی قضاء دی وکړی ([1]).

ایا دروژي په حالت کی منجن مکروه دي؟ **سوال**: (٨۴\١) په روژه کی په منجن باندی غاښونه پاکول که مکروه وی نو ولی؟

جواب: داحتیاط سره که منجن ورکول سی اوغاښونه پاك سی اودننه په حلق کی څه ولاړ نه سی نومکروه نه دی یعنی مکروه تحریمی نه دی خوخلاف اولی ضرور دی ځکه چی کراهیت تنزیهی یی مفاد دی لکه څنګه چی په شامی کی دی: قوله وکره له ذوق شیئ الخ الظاهر ان الکراهة فی هٰذه الاشیاء تنزیهیة ([2]). فقط

په روژه کی دستمال لندول اوپه سر باندی ایښوول څنګه دي؟ **سوال**: (٨۵\١) یوسړی په قصد یولوی دسمال په روژه کی پری منځی اوهره ورځ یی په سر باندی اچوی چی په روژه کی وربادی اسانی وی، نودده روژه مکروه کیږی اوکه نه؟ ما لابد منه مکروه لیکلی دی، اوپه بخاری شریف کی دی: فی باب اغتسال الصائم وبل ابن عمر ثوبًا فالتقی علیه وهو صائم.

جواب: په درمختار کی دی: وکذا لاتکره حجامة وتلفف بثوب مبتل ومضمضة او استنشاق واغتسال للتبرد وعند الثانی وبه ([3]) یفتی. اوپه شامی کی دی. قوله وبه یفتی لان النبی ﷺ صب علی راسه الماء وهو صائم من العطش اومن الحر، رواه ابوداود، وکان ابن عمر ﷺ یبل الثوب ویلفه علیه وهو صائم ([4]). ددی څخه معلومه سوه چی صحیح اومفتٰی به داده چی مکروه نه دی. فقط

آیا روژه دارته په اوبوکی باد ایستل اچول مکروه دي؟ **سوال**: (٨٦\١) که یو روژه دار په اوبو کی داخل سی اوباد واچوی دا مکروه دی. عالمګیری. آیا دا مسئله معتبره ده؟

([1]). وکره له ذوق شيء وكذا مضغة بلا عذر (درمختار) الظاهر ان الكراهة في هذه الاشياء تنزيهية (ردالمحتار مطلب فيما يكره للصائم ج٢ ص ١۵٣ ، ط. س. ج٢ ص ۴١٢). ظفير

([2]). ردالمحتار باب مايفسد الصوم وما لا يفسده ج٢ ص ١۵٣ ، ط. س. ج٢ ص ۴١٢. ظفير

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ما یفسد الصوم وما لا یفسده، مطلب فیما یکره للصائم ج٢ ص ١۵٢ ، ط. س. ج٢ ص ۴١٩. ظفير

([4]). ردالمحتار باب ایضا ج٢ ص ١۵٢ ، ط. س. ج٢ ص ۴١٩. ظفير

جواب: په عالمگیری کی دمعراج الدرایة څخه ددی کراهت نقل دی اوپر عدم فساد دروژی باندی اتفاق دی ، نو په ضرورت کی معذور دی او دسخت ضرورت څخه بغیر په اختیار باندی له دینه ځان ساتل ښه دی (١). فقط

لانده سوی نسوار په خوله کی اچول څنګه دی؟ سوال: (٨٧) (ص) نسوار په اوبو کی لندول او په خوله کی اچول دروژه دارو دپاره جائزدی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار اوذاق شیئًا بضمه وان کره لم یفطر الخ قوله وان کره الا لعذر کما یاتی (٢) شامی، وایضا فی الدرالمختار کره له ذوق شیئ وکذا مضغه بلا عذر (٣) الخ، نومعلومه سوه چی نسوار په خوله کی اچول بغیر له دی چی ستونی ته یې تاثیر ورسیږی مکروه دی، او دعذر له امله جائز دی، وفی الشامی وذکر الزندوسی اذا افتل السلکة وبلها بریقه ثم امرها فی فمه ثم ابتلع ذلك البزاق فسد صومه (٤). الغرض دادی چی په دی باره کی احتیاط ډیر ښه دی اونسوار په خوله کی په اچولو سره خوف دفساد پکښی دی نوښه نه دی.

دتمباکو پاڼه ژوول اوبیا دهغه په اوبو سره په روژه کی غاښونه پاکول څنګه دی؟ سوال: (٨٨) (ص) ځینی ښځی دتمباکو پاڼه وټکوی اوبیا دهغه په اوبو باندی په روژه کی خوله پاکوی داڅنګه دی؟ په روژه کی خلل راولی اوکه نه؟

جواب: که په غاښونو باندی یی ورپوری کړی او بیایی پریمنځی او تُف یی کړی چی په خیټه کی یی اثر ولاړ نه سی نوپه روژه کی یی څه خلل نه راځی.

دنَکسیر په ماتیدلو سره په روژه کی څه نقص نه واقع کیږی: **سوال**: (٨٩) په روژه کی یی نَکسیر مات سو (یعنی دپزې څخه یې وینه ولاړه) تردی چی اثر یی په تُف کی هم پاته سو نوپه روژه کی خوڅه نقصان نه راځی؟

جواب: په دی سره په روژه کی څه خلل نه راځی.

په روژه کی اته یالس واره غسل کول څنګه دی؟ سوال: (٩٠) په روژه کی اته یالس واره غسل کول څنګه دی؟

(١). ولوفسا الصآئم اوضرط فی الماء لا یفسد الصوم ویکره له ذلك هکذا في معراج الدرایة (عالمگیری کشوری الباب الثالث فیما یکره للصائم ج١ ص ١٩٧ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٩). ظفیر

(٢). ردالمحتار باب ما یفسد الصوم ج٢ ص ١٣٨، ط. س. ج٢ ص ٤٠٠. ظفیر

(٣). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ایضا ج٢ ص١٥٣ ، ط. س. ج٢ ص ٤١٢. ظفیر

(٤). ردالمحتار باب ما یفسد الصوم ج٢ ص ١٣٨، ط. س. ج٢ ص ٤٠٠. ظفیر

جواب: جائزدی ([1]). فقط

دختانینو په یوځای کیدو سره روژه ماتیږي: **سوال**: (۹۱) زید په روژه کی دورځی خپله ښځه ښکل کړه، یایی په غیږه کی ونیوله، یایی یودبل سره ختانین ولګول اوشهوت پیدا سو بیا دواړه جلا سول، نوڅه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی روژه وسوه خوځوان سړی ته داسی کول نه دی په کار ([2]). فقط

په روژه کی لندی جامی اغوستل یابار، بار غسل کول درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (۹۲) په روژه کی لندی جامی اغوستل اودری څلور واره غسل کول جائزدی اوکه نه؟ په روژه کی خوڅه فرق نه راځی؟

جواب: په دی سره په روژه کی څه فرق نه راځی ([3]). فقط

دخال یا ټکی په لګولو سره روژه نه ماتیږي: **سوال**: (۹۳) که دروژی په حالت کی خال یا ټکی ولګول سی چی اکثره سرکاری ملازمان یی پرمټانو یا دبدن په بل یو ځای کی یی لګوی اوښځګه چی دخال لګوونکی په نشتر کی زهر لګول سوی وی په بدن کی دزهرو اثر ولاړسی اوتبه باندی راسی اوټول بدن بی کاره سی نوآیا روژه فاسدیږی اوکه نه؟

جواب: دده روژه کیږی اونه فاسدیږی ([4]). فقط

په سترګو کی ددوا اچولو سره خو په روژه کی څه نقصان نه راځی: **سوال**: (۹۴) دروژی په حالت کی که په سترګه کی دواء واچول سی نوپه روژه کی څه نقصان راځی اوکه نه؟

([1]). عن ابی حنیفة رحمه الله انه یکره للصائم المضمضة والاستنشاق بغیر وضوء وکره الاغتسال وصب الماء علی الرأس والاستنقاع في الماء والتلفف بالثوب المبلول وقال ابو یوسف لا یکره وهو الاظهر کذا في محیط السرخسی (عالمگیری مصری کتاب الصوم باب ثالث ج٢ ص ١٨٢ ، ط. س. ج١ ص ١٩٩). ظفیر

([2]). ولاباس بالقبلة اذا امن علی نفسه الخ ویکره اذا لم یامن الخ والمباشرة الفاحشة مثل التقبیل فی ظاهر الروایة (هدایه باب مایوجب القضاء ج١ ص ١٩٩) والمباشرة الفاحشة ان یتعانقا وهما متجردان ویمس فرجه فرجها وهو مکروه بلا خلاف هکذا فی المحیط (عالمگیری مصری کتاب الصوم باب ثالث ج٢ ص ١٨٧ ، ط. س. ج١ ص ٢٠٠).

([3]). ولو اکتحل لم یفطر لانه لیس بین العین والدماغ منفذ والدمع یترشح کالعرق والداخل من المسام لا ینافی کما لو اغتسل بالماء البارد (هدایه باب مایوجب الکفارة ج١ ص١٩٩) عن ابی حنیفة الاکراه الاغتسال وصب الماء علی الراس والاستنقاع فی الماء والتلفف بالثوب المبلول، وقال ابو یوسف لا یکره وهو الاظهر کذا فی المحیط للسر خسی (عالمگیری مصری کتاب الصوم باب ثالث ج١ ص ١٨٢ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٩). ظفیر

([4]). واقطر فی احلیله ماء او دهنا الخ لم یفطر (درمختار) لان العلة من الجانبین الوصول الی الجوف وعدمه بناء علی وجود المنفذ وعدمه الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٣٧ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٩) وَمَا وَصَلَ إِلَى الْجَوْفِ أَوْ إِلَى الدِّمَاغِ عَنْ الْمَخَارِقِ الْأَصْلِيَّةِ كَالْأَنْفِ وَالْأُذُنِ وَالدُّبُرِ ... فَوَصَلَ إِلَى الْجَوْفِ أَوْ إِلَى الدِّمَاغِ فَسَدَ صَوْمُهُ ... وَأَمَّا مَا وَصَلَ إِلَى الْجَوْفِ أَوْ إِلَى الدِّمَاغِ عَنْ غَيْرِ الْمَخَارِقِ الْأَصْلِيَّةِ ... لَا يُفْسِدُ (البدائع الصنائع ج٢ ص ٩٣). ظفیر

جواب: په دی صورت کی په روژه کی څه نقصان نه راځی، روژه صحیح ده ([1]). فقط

په تی ورکولو سره خودښځی روژه یا اودس نه ماتیږی؟ **سوال**: (٩٥\١) که یوی ښځی په روژه کی یاپه اوداسه کی خپل ماشوم ته تی ورکی روژه یا اودس خوبه یی نه ماتیږی ؟

جواب: اودس اوروژه یی نه ماتیږی ([2]). فقط

په انجکشن سره روژه ماتیږی اوکه نه؟ **سوال**: (٩٦\٢) زید دیوه روژه دار په بدن کی دننه دپیچکاری په واسطه دواء ورواچوله نوروژه یی وسوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی یی روژه نه فاسدیږی لکه څنګه چی دفقهاوو دتصریحاتو څخه واضحه ده ([3]).

ریګ یی په خوله کی دننه سوه نوکه تُف یی کړی نو اوس دشبهی دوجه څخه خوروژه ماته نه سوه؟ **سوال**: (٩٧ \١١) خولی ته یې ریګ ورسیده اوتُف یی کړی وروسته یی بیا تُف کړی او ووتی اوبیا په غاښونو کی ریګ معلوم سو ددی څخه معلومه سوه چی ریګ دننه لاندی سوی هم دی نوپه دی سره روژه ماتیږی اوکه نه؟

دغاښ دوینی سره روژه ماتیږی اوکه نه؟ **سوال**: (٩٨\١٢) په رمضان کی چی دغاښونو څخه وینه ووزی، دتُف کولو وروسته یی ذائقه معلومه سوه چی دتُف کولو سره وینه غالبه وه نوپه دی صورت کی روژه ماتیږی اوکه نه؟

جواب: \١: په دی صورت کی روژه نه ماتیږی ([4]). فقط

\٢: اوخرج الدم من بين اسنانه ودخل حلقه يعنى ولم يصل الى جوفه، اما اذا وصل فان غلب الدم او تساويا افسد والا لا الخ ([5])، درمختار. په دی باندی علامه شامی لیکلی دی چی. ظاهر اطلاق المتون انه لايفطر وان كان الدم غالب على الريق وصححه فى

([1]). ولو اقطر شيئا من الدواء فى عينه لايفسد صومه عندنا الخ (عالمگیری مصری کتاب الصوم باب رابع ج١ ص ١٩٠ ، ماجدية ج٢ ص ٢٠٣). ظفير

([2]). روژه ددی وجه څخه نه باطلیږی چی شیدی بیرون راووتلی، روژه دمفطراتو څخه دځان دساتلو نوم دی. وشرعًا امساك من المفطرات الاتية حقيقة اوحكما الخ فى وقت مخصوص الخ (الدر المختار على هامش رد المحتاركتاب الصوم ج٢ ص ١١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٧١). ظفير

([3]). وما وصل إلى الجوف أوإلى الدماغ من المخارق الاصلية كالانف والاذن والدبر ؒ فسد صومه ؒ أما ما وصل إلى الجوف أو إلى الدماغ عن غير المخارق الاصلية بان داوى الجائفة والآمة فان داواها بدواء يابس لا يفسد لانه لم يصل إلى الجوف ولا إلى الدماغ (بدائع الصنائع كتاب الصوم ج٢ ص ٩٣). ظفير

([4]). او بقى بلل فى فيه بعد المضمضة وابتلعه مع الريق كطعم ادوية الخ او ابتلع ما بين اسنانه وهودون الحمصة لانه تبع لريقه الخ لم يفطر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج٢ ص ١٣٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢). ظفير

([5]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج٢ ص ١٣٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢. ظفير

الوجیز (١) الخ. حاصل داچی بعضو فقهاوو په دی کی دروژی عدم فساد صحیح گرځولی او اکثرو دروژی دفساد حکم باندی کړی دی لهذا احتیاط په کاردی.

یوی ښځی په خپله شرمګاه کی وچه دوا ایښی وه نوپه دی روژه ماتیږی اوکه نه؟ سوال: (۹۹\) یوی ښځی په خپل عورت کی چی دوا ایښی ده نوروژه یی ماتیږی اوکه نه؟ البته دوایی دناجوړی دوجه څخه ایښی وه.

جواب: په روژه کی دی ددغه کارسره احتیاط وکړی (٢). فقط

په پزه کی چی کمی اوبه راځی ددی څه حکم دی؟ سوال: (۱۰۰\) په پزه باندی چی کمی اوبه (بلغم) راځی ددی دسوڼ کولو سره خوروژه ماتیږی اوکه نه؟

جواب: ددی سره روژه نه ماتیږی. کما لو ترطب شفتاه بالبزاق عند الکلام ونحوه فابتلعه اوسال ریقه الی ذقنه الخ فاستنشفه الخ لم یفطر الخ (٣).

که په تالاب کی دچا څخه باد ولاړسی نوددی څه حکم دی؟ سوال: (۱۰۱\) که یوه روژه دار دغسل کولو دپاره نهر یا تالاب ته ورکښته سی اودغسل په وخت کی دلاندی خوا څخه باد ځینی ووزی نو دده په روژه کی څه خلل راځی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی مطلقا روژه نه ماتیږی کما هو ظاهر (لیکن دامکروه دی. ظفیر) لان الصوم یفسد من داخل لا من خارج (٤). فقط

روژه دار په پزه کی نسوار اچولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۲\) روژه دار په پزه کی نسوار اچولی سی یعنی جائزدی اوکه نه؟

جواب: نه دی په کار. فقط

دروژی په حالت کی په مقعد کی دننه په زخم باندی یا دبواسیرو په دانو باندی دملهم یا تیلو په لګولو سره روژه کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۳\) که روژه دار دروژی په حالت کی په مقعد اومبرز کی دننه په زخم باندی یا دبواسیرو ددانو په زخمونو باندی ملهم یا تیل

---

(١). ردالمحتار باب ایضا ج٢ ص١٣۴ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢. ظفیر

(٢). ولو ادخل اصبعه في استه او المرأة في فرجها لا یفسد وهو المختار الا اذا کانت مبتلة بالماء والدهن فحینئذ یفسد لوصول الماء او الدهن ﷺوهذا تنبیه حسن یجب ان یحفظ لان الصوم انما یفسد في جمیع الفصول اذا کان ذاکرا للصوم والا فلا (عالمګیری مصری کتاب الصوم باب رابع ج١ ص ١٩١ ، ماجدیه ج٢ ص ٣٠۴) ولو ادخلت قطنة ان غابت فسد وان بقی فی فرجها الخارج لا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٣۵ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٧) . ظفیر

(٣). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم وما لایفسده ج٢ ص١٣٨، ط. س. ج٢ ص۴٠٠. ظ

(٤). په عالمګیری کی یې دامکروه لیکلی دی. ولو فسا الصائم او ضرط فی الماء لایفسد الصوم ویکره ذالك هکذا فی معراج الدرایة (عالمګیری کشوری کتاب الصوم باب ثالث ج١ ص ١٩٧ ، ماجدیده ج١ ص ١٩٩). ظ

دگوتو په دننه کولو سره یې دلاندی څخه ولګوی یایې دننه ښه ورننباسی نوروژه یې صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب: دده روژه صحیح ده مګر احتیاط ښه دی ([1]). فقط

دغوټې په لګولو سره روژه نه ماتیږی او دتمباکو په څکولو سره ماتیږی: **سوال**: (۱۰۴) په تالاب کی دغوټی په لګولو سره روژه ماتیږی اوکه نه؟ او دتمباکو په څکولو سره روژه ماتیږی اوکه نه؟

جواب: په تالاب کی په غسل کولو سره او په غوټی وهلو سره روژه نه ماتیږی او دتمباکو په څکولو سره روژه ماتیږی ځکه چی دتمباکو اجزاء په دماغ اوپه حلق کی ځی.

دښځی په تی ورکولو سره روژه نه ماتیږی: **سوال**: (۱۰۵) مور دروژی په حالت کی خپل بچی ته تی ورکی نو دامفسد دصوم دی اوکه نه؟

جواب: مفسد دصوم نه دی. ([2]) فقط

درانجو او دتیلو په لګولو سره روژه نه ماتیږی: **سوال**: (۱۰٦) دروژی په حالت کی په سر باندی تیل اوپه سترګو کی رانجه لګول که دچا عادت وی اوکه نه وی جائز دی اوکه نه دی؟

جواب: دروژی په حالت کی په سر باندی تیل اوپه سترګو کی رانجه لګول جائز اوصحیح دی که عادت یې وی اوکه نه وی ([3]). فقط

دروژی په حالت کی مچه اخیستل اوښنګ ته کول څه حکم لری؟ **سوال**: (۱۰۷) ایا دروژی په حالت کی دخپلی زوجی څخه بوسه اخیستل اویایی په ښنګ نیول، جائز دی اوکه نه دی؟

([1]). او دخل اصبعه الیابسة فیه ای فی دبره اوفرجها ولو مبتلة فسد الخ ولوبالغ فی الاستنجاء حتٰی بالغ موضع الحقنة فسد (درمختار) قوله ولو مبتلة فسد لبقاء شی من البلة فی الداخل وهذا لو ادخل الاصبع الی موضع الحقنة فسد (ردالمحتار باب مایفسد الصوم وما لا یفسده ج۲ ص ۱۳۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۷) ددی تفصیل څخه معلومه سوه چی په مسئوله صورت کی که چیری دومره اندازه دواء دننه ولاړه یا اوبه چی په معده کی جذب سوی یا پخپله معدی ته ورسیدی نوبیا روژه ماتیږی نو ددی وجه څخه مفتی علام احتیاط ښه ګڼلی دی ددی وجه څخه چی ددی څخه ځان ساتل دهر سړی دپاره ممکن نه دی، والله اعلم. ظفیر

([2]). هو ای الصوم امساك عن المفطرات الاٰتیة حقیقة اوحکمًا الخ فی وقت مخصوص الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۰۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۷۱) ددی څخه معلومه سوه چی روژه دصبح صادق څخه ترلمر پریوتو پوری دنه خوراك، چښاك اوجماع دنه کولو نوم دی چی نیت هم ورسره وی لهذا په شیدو ورکولو کی دایوه خبره هم نه پیداکیږی. ظفیر

([3]). او ادهن اواکتحل الخ لم یفطر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۳۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۵). ظفیر

جواب: دا امور روا دی (خو دځوان سړی دپاره داسی کار کول نه دی په کار) دی دي داسی کارنه کوی دروژی په حالت کی ځکه چی په دی کی بیره ده چی دغه فعل به مفضی الی الجماع کیږی کما في المباشرة الفاحشة (١). فقط

په رمضان کی یوبیده په خپل غاښ کی وینه ولیده نوڅه حکم دی؟ سوال: (١٠٨١) په رمضان کی دورځی یوسړی بیده وو، کله چی رابیدار سو نوپه غاښ کی یی وینه وه خو یقین یی نه وو چی ګواکی دبیده کیدو پروخت یی نس ته وینه تللی ده اوکه نه ده اوس نودروژی څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی روژه نه ماتیږی (٢). فقط

پنځم باب

هغه شیان چی دکمو په وجه روژه ماتیږی اوصرف قضاء واجبیږی

په رمضان کی دسهار په وخت دجنابت غسل څه حکم لری؟ سوال: (١٠٩١) په رمضان کی دسهار په وخت دجنابت دغسل په وجه په روژه کی خوکم نقص نه راځی؟ آیا دلاس په واسطه دمنی په ایستلو سره روژه ماتیږی اوکه نه؟

جواب: دسهار په وخت دغسل په کولو سره په روژه کی کم خلل اوخرابی نه راځی. فی الدر المختار اواصبح جنبًا الخ لم یفطر الخ (٣).(٤)

دوریو دوینی په تیریدلو سره روژه ماتیږی اوکه نه؟ سوال: (١١٠١) دوریو دوینی اوموادو په تیریدلو سره روژه باقی پاته کیږی اوکه نه؟

جواب: صحیح داده چی په دی روژه کی قضاء لازمیږی. اما اذا وصل الی جوفه فان غلب الدم اوتساویا فسد الخ. درمختار (٥). فقط

---

(١). ولا باس بالقبلة اذا امن علی نفسه ای الجماع او الانزال ویکره اذا لم یأمن (هدایه باب ما یوجب القضاء الخ ج١ ص ١٩٩). ظفیر

(٢). واخرج الدم من بین اسنانه ودخل حلقه یعنی ولم یصل الی جوفه الخ (درمختار) ظاهر اطلاق المتن انه لا یفطر (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٣٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢). ظفیر

(٣). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ومالایفسد ج٢ ص ١٣٨ ، ط.س ج٢ ص ٤٠٠). ظ

(٤). په اصل اُردو فتاویٰ کی همداسی دی یعنی یوازی داولی پوښتنی جواب دی ددوهمی پوښتنی جواب ورسره نسته. خو ددي دوهمی پوښتنی جواب مخ ته په سوال نمبر: ١١٢ کی راروان دی، هلته یې وګوره. حقانی"

(٥). پوره عبارت دادی: اوخرج الدم من بین اسنانه ودخل حلقه یعنی ولم یصل الی جوفه اما اذا وصل فان غلب الدم او تساویا فسد والا لا، الا اذا وجد طعمه (درمختار) قلت ومن هذا یعلم حکم من قلع ضرسه فی رمضان ودخل الدم الی جوفه فی النهار ولو نائما فیجب علیه القضاء الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصوم وما لایفسده ج٢ ص ١٣٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢). ظفیر

دپاڼ دسرخي په تیرولو سره روژه ختمیږي اوکه نه؟ سوال: (١١١) زید دسهار څخه وروسته پاڼ وخوړل، دورځې یې په ناړو کې سوروالی موجود وو نو دداسې ناړو تیرول مفسد دصوم دی اوکه نه؟ که مفسد دصوم وي په هرصورت پوره غرغره به یې کړې وي او یابه نه وي کړې، سرخي کمه وي یا زیاته وي، اوکه مفسد نه وي په هرصورت چې وي غرغره یې کړې وي اوسرخي لږ باقي پاته وي چې لیرې کول یې ناممکن وي یا مشکل وي، نو دپاڼ سرخي په دې ټولو صورتونوکې څه حکم لري؟

جواب: که چیرې دبیروني رنګ اثر په ناړو کې موجود وي اودا ناړې تیرې سي نومفسد دصوم دی. کما یظهر من قوله الا ان یکون مصبوغا وظهر لونه في ریقه وابتلعه ذاکرا الخ، درمختار (١). لیکن هغه پاڼ چې دصبح صادق څخه وروسته خوړل سوی وي اوپه خوله کې یې اجزاء نه وي پاته او خوله یې هم صافه کړې وي نوکه سهار په ناړو کې دسرخي اثر موجود وو اوهغه یې تیر سي نوپه دی سره روژه نه فاسدیږي لکه ددرمختار دعبارت څخه چې معلومیږي. والقطرتین من دموعه اوعرقه (٢). دلته دشامي تحقیق دا دی چې: اما الواصل الی الحلق من السام فالظاهر انه مثل الریق فلا یفطر وان وجد طعمه في جمیع فمه تامل. (٣) لکه څنګه چې دملوحة الدموع سره په مخلوطو ناړو باندې دروژې فساد نه راځي نوپه دی سره هم نه فاسدیږي لیکن احتیاط ضروري دی اوحتٰی الوسع باید خوله پاکه سي اوکم اثر پکښې پاته نسي او داشتباه په موقع قضاء احوط ده. فقط

ددود په چکولو سره روژه ماتیږي څه ثبوت دی؟ سوال: (١١٢) ددود په چکولو سره روژه ماتیږي لکن ددی ثبوت دقرآن کریم، حدیث پاك، اودفقهي څخه په څه ډول کیږي؟

جواب: ددود په څکولو سره روژه ماتیږي. کما في الشامي: وبه علم حکم شرب الدخان ونظمه الشرنبلالي في شرحه علی الوهبانیة، ویمنع من بیع الدخان وشربه وشاربه في الصوم لا شك یفطر ویلزمه التکفیر لو ظن نافعاً کذا دافعاً شهوات بطن فقرروا. (٤) فقط

په پزه کې په دوا اچولو سره روژه ماتیږي اوکه نه؟ سوال: (١١٣) په پزه کې دواء اچول مبطل صوم دی اوکه نه؟ اوهمد ارکم په خوله کې نسوار اچول بغیر ددی څخه چې اثر یې نس ته یاحلق ته ورسیږي مفطر دصوم دی اوکه نه؟

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٣٨، ط. س. ج٢ ص ٤٠٠. ظفیر

(٢). ایضا ج٢ ص ١٤١، ط. س. ج٢ ص ٤٠٣. ظفیر

(٣). ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢٩ ص ١٤٢، ط. س. ج٢ ص ٤٠٤. ظفیر

(٤). ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٣٤، ط. س. ج٢ ص ٣٩٥. ظفیر

جواب: په پزه کی دواء اچول اویا نور څه مبطل دصوم دی اودقضاء وجوب مصرح دی. کما فی الدرالمختار اواستعط فی انفه شیئًا الخ (۱). اوهرڅه چی نسوار دی چی په خوله کی واچول سی اواثر یی نس یاحلق ته ونه رسیږی نوداروژه نه ماتوی کما فی الذوق، لیکن احتیاط ددغه په پرینښوولو کی دی کما هو ظاهر. فقط

دشرمګاه په دخول سره روژه ماتیږي: **سوال**: (۱۱۴\۱) په دخول سره روژه ماتیږی اوکه نه؟

سوال: (۱۱۵\۲) که دخول یی وکی اومنی ونه وتل نوڅه حکم دی؟

جواب: ۱\: ماتیږی اوکفاره لازمیږی په دخول دفرج کی (۲).

۲\: دخول په احد السبیلین کی که منی راسی اوکه نه روژه ماتیږی اوقضاء اوکفاره دواړی لازمی دی (۳). فقط

په لاس سره دمنی ایستل مفسد دصوم دی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۶\) که څوك په روژه کی په لاس باندی منی وباسی نوروژه یی پاته کیږی اوکه نه؟

جواب: اذا استمنٰی کفه الخ (۴) قضٰی. (په لاس باندی دمنی ایستلو سره روژه ماتیږی او قضاء لازمیږی. اودا دی هم واضحه وی چی دغه کار ډیر شنیع کاردی په دی کار باندی لعنت ویل سوی دی. ظفیر)

په مچه اوغیره کی نیولو سره چی انزال وسی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۷\) یوه سړی په روژی درمضان کی خپله ښځه مچ کړه اوپه غیره کی یی ونیوله او انزال یی وسو نوپه دی صورت کیورباندی قضاء واجب ده اوکه نه کفاره هم؟

جواب: په دی صورت کی صرف قضا ددی روژی لازمه ده اوکفاره واجب نه ده (۵).

په پزه کی دتیلو په اچولو ولی روژه ماتیږي؟ سوال: (۱۱۸\) روژه دار په پزه کی تیل ولی نسی اچولی په داسی حال کی چی اوبه پکښی ولاړی سی نوروژه نه ماتیږی ؟

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۲. ظفیر

(۲). او ذاق شیئًا بفمه وان کره لم یفطر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۳۸، ط. س. ج۲ ص ۴۰۰). ظفیر

(۳). وان جامع المکلف ادمیا مشتهی فی رمضان اداء او جومع وتوارت الحشفة فی احد السبیلین انزل او الخ قضی الخ وکفر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۱ ص۱۴۷، ط. س. ج۲ ص۴۰۹). ظ

(۴). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۱ ص ۱۴۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۹. ظفیر

(۵). اوقبل ولوقبلة فاحشة الخ اولمس ولو بحائل لایمنع الحرارة اواستمنی بکفه او بمباشرة فاحشة ولو بین المراتین فانزل الخ قضٰی فی الصوم کلها فقط (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۹) مګر ددی سره سره درمضان احترام کول ضروری دی، هغه به ددی ځخه وروسته هیڅ خوراك څښاك نه کوی. ظفیر

جواب: په هدایه کی یی دفرق وجه دابیان کړیده چی داوبو وصول ما فیه صلاح البدن الی الجوف نه دی په خلاف دتیلو څخه. وګوره هدایه (۱)، اوداهم دفرق وجه کیدی سی چی داوبو څخه دځان ساتل سخت دی اوپه دی کی ضرورت دی. فقط

نسوار په پزه کی اچول او ددود په څکولو سره روژه ماتیږی: **سوال**: (۱۱۹) ددود څکول او نسوار بوی کول په پزه کی مفسد دصوم دی اوکه نه؟

جواب: دود څکول مفسد دصوم دی اوپه پزه کی نسوار کش کول هم مفسد للصوم دی. قال فی الشامی وبه علم حکم شرب الدخان ونظمه فی شرح الرهبانیة. ویمنع من بیع الدخان وشربه وشاربه فی الصوم لا شك یفطر (۲). فقط

ددواء په بوی کولو سره روژه ماتیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۰) اټلوس، چی یوقسم دواده چی نوشادر اوچونه ورسره یوځای سی اوپه چیښه کی واچول سی اوپه پزه کی لګول کیږی اوپه پزه کی کش کول کیږی چی دهغه تیزی تردماغو پوری رسیږی نوددی په پزه کی په اچولو سره روژه ماتیږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی روژه ماته سوه اوقضاء باندی لازمه ده. کمافی الدرالمختار ومفاده انه لو ادخل حلقه الدخان افطر ای دخان کان ولو عوداً اوعنبراً ذاکرا لامکان التحرز عنه الخ (۳)، وتحقیقه فی الشامی (۴). فقط

که روژه دار دورځی کانی تیر کړی یاخوراک وکړی یاجماع وکړی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۲۱) زید روژه ونیوله بیا دورځی یی یوکانی تیرکی یایی دښځی سره جماع وکړه یایی خوراك وکی نوڅه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی دزید پرذمه صرف قضاء لازم ده اوکفاره نسته (۵).

---

(۱). ومن احتقن ﷺ أو أقطر في أذنه أفطر لقوله صلی الله علیه وسلم [الفطر مما دخل] ولوجود معنی الفطر وهو وصول ما فیه صلاح البدن إلی الجوف ولا کفارة علیه ﷺ أقطر في أذنیه الماء أو دخلهما لا یفسد صومه لانعدام المعنی (ای اصلاح البدن) والصورة بخلاف ما إذا دخله الدهن (هدایه باب مایوجب القضاء والکفارة ج۱ ص ۲۰۲). ظفیر

(۲). ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۳، قول الماتن لو ادخل حلقه الدخان افطر (ط. س. ج۲ ص ۳۹۵). ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۳۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۵. ظفیر

(۴). قوله قوله: (إنه لو أدخل حلقه الدخان) أي بأي صورة کان الادخال، حتی لو تبخر بخور فآواه إلی نفسه واشتمه ذاکرا لصومه أفطر لامکان التحرز عنه، وهذا مما یغفل عنه کثیر من الناس، ولا یتوهم أنه کشم الورد ومائه والمسك، لوضوح الفرق بین هواء تطیب بریح المسك وشبهه وبین جوهر دخان وصل إلی جوفه بفعله. إمداد (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۳ ص ۱۳۳ – ۱۳۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۵). ظفیر

(۵). دکانی دتیرولو په صورت کی داجواب دی: او ابتاع حصاة ونحوها مما یاکله الانسان اویعافه اویستقذره =

(تفصیل یی په حاشیه کی وګوری. ظفیر)

په روژه کی ددود په څکولو سره کفاره واجبیږی اوکه قضاء؟ سوال: (۱۲۲\) په روژه کی ددود په څکولو سره قضاء واجبیږی اوکه کفاره هم؟

جواب: ددود په څکولو سره قضاء لازمیږی اوروژه باندی ماتیږی خوپه بعضو صورتونو کی کفاره هم لازمیږی ([1]). (یعنی که داګټه رسونکی وګڼل سی نوقضاء اوکفاره دواړه لازم دی اوکه داسی نه وی نویوازی قضاء ده. ظفیر)

دښځی څخه چی کمه مچه واخیستل سی اودهغه انزال وسی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۳)

یوه سړی دروژی په حالت کی دخپلی ښځی څخه مچه واخیسته اوخپله تناسلی آله یی پرنس ورکښی ښووله اووی مښله ورپوری نوپه دغه وجه یی انزال وسو چی دابی ارادی وسو نوپه دی صورت کی قضاء مع الکفاره ده اوکه نه بی دکفاری څخه ؟

جواب: په دی صورت کی صرف دروژی قضاء لازمه ده اوکفاره لازمه نه ده. کذافی الدر المختار والشامی ([2]) فقط.

دسهار په وخت دخولی څخه یی پاڼ یابل څه ووتل نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۴\) دروژی په میاشت کی دسهار په وخت په خوله کی پاڼ یاتمباکو یابل یو شی یی دپیشلمی په وخت کی اچولی وو، او ووتی نوروژه وسوه اوکه نه قضاء لازمه ده؟

جواب: احتیاط په قضاء راوړلو کی دی که چیری حکم قطعی دقضاء نه وی ([3]). فقط

دښځی سره په لوبو کولو کی انزال وسو نوڅه وکړی؟ سوال: (۱۲۵\) یوسړی په رمضان کی

= قضٰی فی الصور کلها فقط (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۰ وج۲ ص ۱۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۳) اوکه چیری عمداً جماع وکړه او یایې خوراك وکی نوبیا کفاره هم واجب ده په دی شرط چی داکار په رمضان کی اداء سی. وان جامع المکلف اٰدمیا مشتهی فی رمضان اداء اوجومع وتوارت الحشفة فی احد السبیلین انزل اولا، او اکل اوشرب غذاء الخ عمداً الخ قضی فی الصور کلها وکفر (ایضا ج۲ ص ۱۴۷ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۹) البته په غیر رمضان کی قضاء ده کفاره نسته، یا صورت داسی وی چی په رمضان کی یې اول کانی تیر کړی وی اوبیا جماع وکړی یاخوراك وکړی نوبیا هم صرف قضاء واجب ده. ظفیر

([1]). انه لو ادخل حلقه الدخان افطر (درمختار) ویمنع من بیع الدخان وشربه وشعار به فی الصوم لاشك یفطر ویلزمه التکفیر لوظن نافعا کذا دافعا لشهوات بطن فقرروا (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۳۳ – ۱۳۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۵). ظفیر

([2]). او وطی امراة میتة الخ اوفخذ اوبطنا اوقبل ولو قبلة فاحشة بان یدغدغ اویمص شفتیها الخ فانزل الخ قضی فی الصور کلها فقط (ای بدون کفارة) ، (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم باب مایفسد الصوم الخ ج۲ ص ۱۴۲ وج۲ ص ۱۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۴). ظفیر

([3]). اوذاق شیئا بفمه وان کره لم یفطر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم وما لایفسد ج۲ ص ۱۳۸ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۰). ظفیر

دروژی په حالت کی دخپلی ښځی سره لوبی شروع کړی اوتر ډیره پوری یی لوبی کولی یوڅو منته وروسته یی انزال وسو آیا په ده باندی ددی روژی کفاره لازمه ده اوکه نه صرف قضاء ده؟

جواب: په دی صورت کی محض قضاء ددی روژی لازمه ده اوکفاره واجب نه ده کذافی الدرالمختار ([1]). فقط

په ۲۹ یی سپوږمی ونه لیده وروسته چی بیا تحقیق وسو نوقضاء ضروری ده: **سوال**: (۱۲۶\)

په ۲۹ دشعبان یوم جمعه دضلع بهاولپور سره نژدی شاوخوا میاشت نه وه اوهغوی روژه ونه نیوله نوپر دوی باندی دشنبی دورځی دروژی قضاء لازمی ده اوکه نه ده؟

جواب: دشنبی روژه محققه سوه نوکمو خلګو چی دشنبی روژه ونه نیوله په هغوی باندی ددی ورځی دروژی قضایی لازمه سوه ([2]). فقط

دروژی په حالت کی یی داحتلام څخه وروسته خوراک وکی، نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۷)

دیوه سړی په روژه کی احتلام وسو نوهغه بغیر دپوښتنی څخه په خپل سرییی خوراك وکی نوپه دی صورت کی کفاره سته اوکه نه؟

جواب: په احتلام سره که څه هم روژه نه ماتیږی لیکن که څوك په غلطی سره داسی فکر وکی چی روژه یی ماته سوه، که افطار یی وکی نوکفاره نسته صرف قضاء لازمه ده کما فی الشامی واحترز به عما لوفعل مایظن الفطر به کما لو اکل او جامع ناسیا اواحتلم اونزل بنظر اوذرعه القیئ فظن انه افطر فاکل عمداً فلا کفارة للشبهة الخ شامی ([3]). فقط

یوه نوکر دکار دسختوالی دامله روژه ماته کړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۸\) زید په فورس [فوج] کی نوکردی دروژی په حالت کی یی افسر داسی یوحکم وکی چی دهغه په وجه دی سخت خفه دی چی له هغه سره دهغه دتندرستی فکر وو په کلوکی منډی رامنډی یی کښی ښوولی زید دمسئلی څخه خبر نه وو، لهذا هغه روژه افطار کړه آیا دی دکفاری څخه بچ کیدی سی؟

([1]). اوقبل ولو قبلة فاحشة بان یدغدغ اویمص شفتیها او لمس ولو بحائل لا یمنع الحرارة او استمنی بکفه او بمباشرة فاحشة ولو بین المرأتین فانزل (قید للکل حتی لو لم ینزل لم یفطر الخ) قضی الخ فی الصور کلها فقط (درمختار) ای بدون کفارة (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص۱۴۲ وج۲ ص۱۴۴ ط. س. ج۲ ص ۳۹۹). ظ

([2]). کله چی رمضان ثابت سی اوروژه ونه نیسی نوپه ده باندی قضاء فرض ده لکه څنګه چی دیوم الشك دروژی په سلسله کی صراحت دی. والا بان ظهرت فعنه ای عن رمضان، (ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۰ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۱). ظفیر

([3]). ردالمحتار للشامی باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۹ تحت قوله فعل ما لایظن الفطر به ، ط. س. ج۲ ص ۴۱۱. ظفیر

جواب: که دډیری سختی څخه دهلاکت یامرض بیره وی نوکفاره باندی ساقطه ده ([1]).

په مجبوری کی په افطار سره کفاره نه راځی: **سوال**: (١٢٩١) یوایمانداره سړی چی دقرآن کریم حافظ دی په رمضان کی یی دوی ورځی دتبی سره روژه ونیوله په دریمه ورځ یی هم دروژی نیت وکی اوروژه یی شروع کړه لیکن دسختی تبی دوجه څخه یی دریمه روژه ماته کړه ددی څخه وروسته هغه لس ورځی پی درپی مریض وو اولس ورځی یی روژه ونسوه نیولی نوشرعًا پرداسی سړی باندی کفاره راتللی سی اوکه نه قضاء، اودایماندار سړی نظر په روژی ماتولو کی معتبردی اوکه نه دی؟

جواب: په دی سړی باندی صرف ددی روژی قضاء ده اوهمدا رکم دهغو ورځو چی دهغو څخه یی وروسته افطار کړیدی قضا لازمه ده اوکفاره لازمه نه ده ځکه چی په دی باره کی پخپله دروژه دار مریض غلبه دظن هم معتبره ده په درمختار کی دی: اومریض خاف الزیادة لمرضه الخ بغلبة الظن بامارة اوتجربة اوباخبار طبیب حاذق مسلم مستور ([2]).

قضاء پخپله اداء کول ضروری دی: **سوال**: (١٣٠١) دیوی ښځی څخه دروژی دمیاشتی قضاء سویده که خاوند یی دهغې په ځای ونیسی نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: په ښځه باندی روژه نیول په کاردی دمیړه په نیولو سره دښځی روژی نه اداء کیږی ([3]). فقط

دیوعبارت مفهوم: **سوال**: (١٣١١) وکذا الاستمناء بالکف وان کره تحریماً الخ. اودوهم عبارت په دی باب کی دی: اولمس ولو بحائل لایمنع الحرارة اواستمنٰی بکفه الخ فانزل قید للکل حتٰی لو لم ینزل لم یفطر الخ. داول عبارت څخه شك کیږی چی په استمناء بالید باندی روژه نه ماتیږی. اودبل عبارت څخه په تفصیلی پوهیدو سره راځی چی دانزال په صورت کی افطار کیږی اوکه نه نو نه کیږی په دی کی دتطبیق څه صورت دی؟

جواب: داولنی عبارت تعلق دماقبل سره دی هغه دادی چی: اوجامع فی مادون الفرج ولم ینزل یعنی فی غیرالسبیلین کسرة وفخذ وکذا الاستمناء بالیدوان کره تحریماً ([4]) دپورته قید دلم ینزل څخه معلومه سوه چی په: وکذا الاستمناء بالید کی هم دعدم انزال قید

([1]). قدذکر المصنف منها خمسة وبقی الاکراه وخوف هلاك اونقصان عقل ولو عطش اوجوع شدید (ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٥٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٥٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢. ظفیر

([3]). العبادة المالیة کزکاة وکفارة تقبل النیابة عن المکلف مطلقا الخ والبدنیة کصلاة وصوم لاتقبلها مطلقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغیر ج٢ ص ٣٢٦ ، ط. س. ج٢ ص ٥٩٧. ظفیر

([4]). وګوره الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٨. ظفیر

دی، څنګه چی علامه شامی په دی موقع باندی لیکلی دی: قوله وكذا الاستمناء بالكف ای فی كونه لايفسد لكن هذا اذا لم ينزل اما اذا انزل فعليه القضاء كما سيصرح به وهو المختار كما ياتی ([1]). ددی څخه تطبيق هم وسو اومسئله مفتی به هم معلومه سوه چی په استمناء کی دانزال روژه ماتیږی اوصرف قضاء لازمیږی.

دغیر رمضان دروژی قصداً پریښولو څه حکم دی؟ سوال: (١٣٢) ان رجلا كان صائما لاجل الحنث فی اليمين فتحقق ناقض الصوم بالقصد والاختيار، يجب عليه القضاء والكفارة معًا ام القضاء؟ فقط

جواب: يجب عليه قضاء الصوم الذی افسده لانه افسد الصوم الواجب وقد قال فی الدر المختار اوافسد غير صوم رمضان الخ قضى الخ ([2]) وكفارة اليمين ايضا واجبة عليه كذا فی الدرالمختار ([3]). فقط

که دښځی سره صرف په کښېنستلو انزال وسی نوڅه حکم دی؟ سوال: (١٣٣) که دښځی سره یوسړی درمضان المبارك په ورځی کی کښېنستی او دکمزوری دوجه څخه یی انزال وسو نوپه ده باندی قضاء ده اوکه نه کفاره هم راځی؟

جواب: که یو سړی په رمضان کی دورځی دخپلی ښځی سره کښېنستی اودکمزوری دوجه څخه یی انزال وسو، نوپه دی صورت کی ددی روژی قضاء لازمه ده اوکفاره واجب نه ده ([4]).

دروژه دار په مخکی دګربتی دود کول څنګه دی؟ سوال: (١٣٤) په رمضان المبارك کی دجمعی په ورځ دروژه دار ومخ ته ګربتی دود کول څنګه دی؟

جواب: درمختار، اوشامی په مفسداتو دصوم کی لیکلی دی چی که روژه دار په خپل حلق کی قصدا دود داخل کړی اوروژه ورته یاده وی نوروژه یی ماتیږی. په درمختار کی دی: انه لودخل حلقه الدخان انظر ای دخان كان ولو عودا اوعنبرا لو ذاكرا لامكان التحرز عنه. اوپه شامی کی دی. قوله : ان قوله: (إنه لو أدخل حلقه الدخان) أي بأي صورة كان الادخال، حتى لو تبخر بنجوره فآواه

([1]). ردالمحتار باب مايفسد الصوم وما لايفسده ج٢ ص ١٣٢ – ١٣٧ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٩. ظفير

([2]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصوم ج٢ ص ١٤١. ظفير

([3]). والمنعقدة ما يحلف على أمر في المستقبل أن يفعله أو لا يفعله وإذا حنث في ذلك لزمته الكفارة لقوله تعالى: لا يؤاخذكم الله باللغو في أيمانكم ولكن يؤاخذكم بما عقدتم الأيمان [المائدة: ٩٨] (هدايه كتاب الايمان ج٢ ص ٤٥٥). ظفير

([4]). اوقبل ولوقبلة فاحشة بان بدغدغ اويمص شفتيها اولمس الخ فانزل الخ قضى فی الصور كلها (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج٢ ص ١٤٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٩). ظفير

إلى نفسه واشتمه ذاكرا لصومه أفطر لامكان التحرز عنه، الخ ولا يتوهم أنه كشم الورد ومائه والمسك، لوضوح الفرق بين هواء تطيب بريح المسك وشبهه وبين جوهر دخان وصل إلى جوفه بفعله الخ (۱). فقط

يوپښ مسلمان سوی که روژه پرېږدي نوقضا اوكفاره واجب ده اوكه نه؟ سوال: (۱۳۵\) يو هندو په پټه مسلمان سو اودرمضان روژه يې هم ونيوله وروسته يې مسلماني افشا سوه په دې وجه يې روژه ماته کړه وروسته بيايې ښکاره مسلمان سو نوکفاره باندې لازميږي اوكه نه؟

جواب: ترڅو چې دې مسلمان سوی وی اوپه الله ﷻ اورسول ﷺ يې ايمان راوړی وی او داسلام ټول احکام يې قبول کړي وی دې عندالله مسلمان دی که څه هم خلګوته يې اسلام ظاهر نه وی نوکه روژه درمضان ونيسي اوبيايې ماته کړي نوكفارهورباندې لازم ده (۲). فقط

مريض سره ددې چې نيت وکې اوروژه يې ماته کړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۳٦\) يوسړی په رمضان شريف کې مريض وو، بعضې ورځې يې روژه نيولې وه اوبعضې ورځې يې افطار کړې وه اتفاقا يوه ورځ يې دروژې دنيت سره سره وروسته دسهار دلمانځه څخه افطار وکې نوپه دې صورت کې قضاء واجب ده اوکه کفاره هم؟

جواب: په دې صورت کې پرده باندې دروژې قضاء واجب ده اوکفاره واجب نه ده ځکه چې دی داول څخه مريض دی لهذا ده ته افطار کول جائز وو. ثم انما يكفر ان نوى ليلا ولم يكن مكرهًا ولم يطر مسقط كمرض وحيض الخ (۳) درمختار. اوکفاره دشبهې دوجه څخه هم ساقطه ده. قوله كمرض اى مبيح الافطار الخ (۴) شامي. نوترڅو چې دده مرض موجود وی چې افطار يې مباح کړی وی نوپه دې صورت کې هم ورباندې کفاره نه لازميږي.

يواځې دجمعې په ورځ روژه نيول څنګه دي؟ سوال: (۱۳۷\) يواځې دجمعې په ورځ نفلي روژه نيول مکروه دي اوکه نه دي دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد باندې؟

جواب: داحنافو مذهب دادی چې يواځې دجمعې په ورځ روژه نيول مکروه نه دي. ولاباس بصوم يوم الجمعة عند ابي حنيفة ومحمد رحمهما الله لماروى عن ابن عباس انه كان يصومه

---

(۱). ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج۲ ص ۱۳۳ – ۱۳۴ ، ط. س. ج۲ ص **۳۹۵**. ظفير

(۲). اذا اكل متعمدا مايتغذى به او يتداوى به يلزمه الكفارة الخ (عالمگيرى مصرى كتاب الصوم باب رابع فصل ثانى ج۱ ص **۱۵۲** ، ماجديه ج۱ ص **۲۰۵**). ظفير

(۳). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج۲ ص ۱۵۰ - ۱۵۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۱۲. ظفير

(۴). ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج۲ ص ۱۵۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۱۳. ظفير

ولایفطر الخ (١). اودنهی حدیث پاك محمول دی په دی باندی چی دجمعی دلمانځه په اقامت غسل وغیره کی ځینی ضعف ونه سی، نوترڅو چی دابیره نه وی نوده لره مکروه نه ده، خوښه داده چی ددی سره یوه روژه مخکی یاوروسته یوځای کړی ځکه چی دبخاری اودمسلم شریف په حدیث کی دی. لایصوم احدکم یوم الجمعة الا ان یصوم قبله او یصوم بعده. متفق علیه (٢). مشکوٰة فقط

دګرمی دشدت څخه په روژه پریښوولو صرف قضاء واجب کیږی اوکه کفاره هم؟ سوال:
(١٣٨) په رمضان شریف کال ١٣٣٧ هـ ق کی زه اوخپلوان دیوې ماشومی لوری چی وفات سویده دمریضتیا دوجه نا ارامه اودهغې په غم کی پریشانه اوغمګین وو، تراویح مو وکړی او دروژی نیت موپوخ وکی اوبیا بیده سو تردی چی دپیشلمی په وخت ویښ نه سو دصبح صادق په وخت بیدار سو دبیداریدو په وخت دغم دوجه څخه می ژبه وچه وه اوددی څخه معلومیده چی نن ورځ می دروژی توان نسته نوددی وجه څخه ما دیو مولوی صاحب څخه معلومات واخیستی چی هغوی وویل که ته روژه سرته نسی رسولی نوروژه پریږده اودیوی روژی به بیاقضایی وکړی، نودکور والاوو روژه ماته کړه دمسئلی دپوښتنی په وخت زما سره دومره غم نه وو چی که فی الحال روژه پریږدم نومریض یا قریب المرګ به سم بلکی دسخت ګرم موسم په وجه دامعلومه سوی وه چی دزوال اویا دزوال څخه وروسته به مریضان سو. نوپه دی صورت کی قضاء واجب ده اوکه کفاره هم؟ که کفاره واجب وی نوپه مولوی صاحب څه شرعی تعذیر سته اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی: وبقی الاکراه اوخوف هلاك اونقصان عقل ولو بعطش اوجوع شدید ولسعة حیة الخ (٣). اوهمدا رکم ددی څخه لږ وروسته دی: اومریض خاف الزیادة لمرضه وصحیح خاف المرض (درمختار) ای بغلبة الظن کمایاتی الخ (٤). شامی ددی عبارتونو څخه معلومه سوه چی که زید اوهمدارکم دهغه دکوروالا داخوف په ظن غالب سره وو چی هغه روژه نسی پوره کولی اودمرض یا دهلاکت بیره وی نوپه دی صورت کی په هغوی باندی یواځی قضاء دهغه روژی لازم ده اوکفاره واجب نه ده اودا

(١). ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١١٤ تحت قول الماتن والمندوب الایام البیض من کل شهر ویوم الجمعة ولو منفرداً ، ط. س. ج٢ ص ٣٧٥. ظفیر
(٢). مشکوٰة باب صیام التطوع فصل اول ص ١٧٩. ظفیر
(٣). الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٥٨ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢١). ظفیر
(٤). وګوری ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٥٩ ، ط. س. ج ٢ ص ٤٢٢. ظفیر

چی مولوی صاحب دروژی دافطار حکم ورکی هغه هم غالبًا په دی بناء دی لهذا پرده باندی هم څه مؤاخذه نسته، اوکله چی دغه ټول قیود هغه وخت دی چی دروژی نیت یې کړی وی، اوکه یې دروژی په دغه ورځ نیت نه وی کړی اوذکرسوی خوف په وجه دروژی نیت ونه کړی نوپه دی صورت کی دکفاری نه واجب کیدل ظاهرتر دی اوپه کتب دفقه کی یی صراحت سویدی (١). فقط

په خوله کی دتمباکو اچول څنګه دی؟ سوال: (١٣٩\) ماقولکم رحمکم الله فی رجل امسکن التتن المعروف فی فمه ولم یبتلع عینه ولا لعابه ولم یصلا الی جوفه هل یفسد صومه ام لا؟ وهل یکون من قبل ذکره؟

جواب: امساك التتن فی الفم لا یجوز فی الصوم لانه لا یخلو عن وصوله الی الحلق والجوف عادة والعادة محکمة فالحذر من ان یاکل التنباك بهذه الوسوسة فی نهار رمضان کیف وقد قالوا في مضغ العلك کمافی الشامی وانما قیده بذالك ای بابیض لان الاسود وغیره الممضوغ وغیر الملتئم یصل منه شیئ الی الجوف (٢) ولهذا یمنع عن شرب دخانه ویحکم انه مفطر وفي التنباك خاصیة في الانجذاب الی الجوف الا تری ان امساکه في الفم لغیر المعتادین یؤثر تاثیرا عظیما من دوران الرأس وانکسار الاعضاء فما هو الا وصول اثره الی الدماغ والجوف. ولا حول ولا قوّة الا بالله العلي العظیم. فقط والله تعالٰی اعلم.

کتبه عزیز الرحمٰن عفی عنه ، الجواب صواب محمد انور (٣) عفا الله عنه

چی قصدًا روژه پریږدی اوبیا مریض سی یا دښځی حیض راسی نوڅه حکم دی؟ سوال: (١٤٠\) که یوسړی قصدا روژه ماته کړی اوبیا مریض سی یاښځه حائضه سی نوکفاره ورباندی لازمیږی اوکه نه؟

---

(١). وجوبها ای الکفارة مقید بما یاتی من کونه عمدا الخ وبما اذا نوی لیلا (ردالمحتار باب مایفسد للصوم ج٢ ص ١٤٧ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩)، ولم ینو فی رمضان کله صوما ولا فطرا الخ او اصبح غیر ناوٍ للصوم فاکل عمدا الخ قضی فی الصور کلها فقط (درمختار) واما عندنا فلا بد من النیة، لان الواجب الامساك بجهة العبادة، ولا عبادة بدون نیة، أمسك بدونها لا یکون صائما ویلزمه القضاء دون الکفارة ؒ لان الکفارة إنما تجب علی من أفسد صومه، والصوم هنا معدوم (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٤١ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٣). ظفیر

(٢). یعنی بحر العلوم حضرت مولانا سید محمد انور شاه صاحب کشمیری ؒ المتوفی سنة ١٣٥٢ھ سابق صدر المدرسین دار العلوم دیوبند. ظفیر

(٣). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٤٧ وص ١٤٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩. ظ

جواب: کفاره ساقطیږی. انما یکفر ان نوی لیلا ولم یکن مکرها ولم یطر مسقط کمرض وحیض (درمختار ج۲ ص ۱۵۱ علی هامش ردالمحتار. ظفیر) .

شپږم باب

هغه شیان چی په هغه باندی روژه ماتیږی اوکه قضاء اوکفار دواړه لازمیږ ی

په قصد روژه خوړلو سره قضاء اوکفاره دواړه لازمیږی: **سوال**: (۱۴۱ ۱) دفقهی په کتابونو کی یی چی لیکلی دی چی په رمضان کی بی دشرعی عذر څخه قصداً په روژه ماتولو سره قضاء اوکفاره واجب ده آیا قضاء اوکفاره مجموعه یو شپیته روژی به نیسی اوکه یا کفاره اوقضاء یوځای ددی شپیته روژو په نیولو دواړه اداء کیږی؟

جواب: په رمضان کی قصداً په روژه خوړلو باندی کفاره او قضاء دواړه لازمیږی یعنی یوه روژه قضاء اوشپیته روژی کفاره واجب ده، لکه چی په درمختار کی دی: وان جامع فی رمضان الخ او اکل وشرب غذاءًا اودواءًا عمداً الخ قضی وکفر الخ [۱]. فقط

چی کفاره یاده وی خو دقضایی روژو تعداد یی یادنه وی نوڅه وکړی؟ **سوال**: (۱۴۲۱) په چا باندی درمضان دیوڅو روژو کفاره ده چی تعداد هم ورته یادنه دی ددی وجه څخه دلمانځه قضاء هم وریاده نه وی چی دیوکال څخه یی پرذمه پاته دی نودا څه ډول اداء کوی، او دډیرو قسمونو کفاری همورباندی وی تعداد ورته یادنه وی نوڅه کول ورته په کار دی؟ ایا دټولو دطرف څخه یوه کفاره کافی ده اوکه نه؟

جواب: دلمونځونو اودروژو اندازه دی ولګوی اوقضایی دی وکړی اوپه کفاره کی تداخل کیدی سی [۲]. یعنی دیوې کفاری په اداء کولو سره دټولو دمؤاخذه کیدو څخه بری کیدی سی په شامی کی یی لیکلی دی چی: وفی البغیة کفارات الایمان اذا اکثرت تداخلت ویخرج بالکفارة الواحدة عن عهدة الجمیع الخ [۳]. فقط

په جماع کی چی انزال ونه سو نوهم کفاره سته: **سوال**: (۱۴۳۱) ان رجلاً جامع مع امرأته فی نهار

---

[۱]. ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۹ ، ط. س. ج۲ ص ۱۱. ظفیر

[۲]. درمضان دروژی په اندازه کی دظاهر الروایت مطابق صرف دجماع دوجه اوهغه هم چی په رمضان کی وی تداخل نسته اوپه باقی نورو کی تداخل سته. ولوتکرر فطره ولم یکفر للاول یکفیه واحدة ولوفی رمضانین عند محمد وعلیه الاعتماد بزازیة مجتبی واختار بعضهم للفتوٰی ان الفطر بغیر الجماع تداخل والا لا (درمختار) قوله: (ولم یکفر للاول) أما لو کفر فعلیه أخری قوله: (وعلیه الاعتماد) نقله في البحر عن الاسرار، ونقل قبله عن الجوهرة لو جامع في رمضانین فعلیه کفارتان وإن لم یکفر للاولی في ظاهر الروایة وهو الصحیح (ردالمحتار باب مایفسد الصوم مطلب فی الکفارات ج۲ ص ۱۵۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۱۳). ظفیر

[۳]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب یفسد الصوم ج۱ ص ۱۴۷ وص۱۴۹، ط. س. ج۲ ص۴۰۹). ظفیر

رمضان وکان الثوب الغلیظ مطویًا علی ذکره فانخرق الثوب حتی افترقا، علیهما الکفارة ام لا؟

جواب: تجب الکفارة ایضًا فی هذه الصورة کما فی الدرالمختار وان جامع المکلف ادمیا مشتهًی فی رمضان اداءً لمامر او جومع وتوارت الحشفه فی احد السبیلین انزل او لا قضی وکفر الخ . فقط

که په سخت غم کی یی اوبه وچښلی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۴۴۱) هندی ته په رمضان کی پیچس مریضی ولګیده، چی خوب یی کم وو، نوهغې ته په روژه کی سخت غم پیدا سو، نواوبه یی وچښلی، هندی ته دامعلومه نه وه چی دروژی په ماتولو سره دکفاری شپیته روژی لازمیږی، اوس هنده یوه روژه ونیسی اوکه نه کفاره واجب سوه اودکفاری په ورځو کی دحیض اودنفاس ورځی اومریضتیا ورځی مستثنٰی دی اوکه نه دسر څخه نوی روژی نیول شروع کړی؟

جواب: که هندی روژه نیولی سوه اومرض یی داسی نه وو چی روژه پکښی نسی نیولی اوهغې ته روژه یاده وه اوعمداً یی اوبه وچښلی نوپه دی باندی قضاء اوکفاره لازمه ده ([1]). او دافطار دکفاری په ورځو کی که حیض راغی نودا دتتابع مانع نه دی بلکه دحیض دانقطاع څخه وروسته سمدستی دی بیا روژه شروع کړی اودحیض څخه مخکی ورځ هم په شمارکی راځی، اونفاس دتتابع دمانع څخه دی یعنی دنفاس څخه وروسته دسره دوه میاشتی روژی نیول ضروری دی. کذا فی الدر المختار ([2]). فقط

درمضان دقضایی روژی په ماتولو سره کفاره نه لازمیږی: سوال: (۱۴۵۱) په زید باندی درمضان شریف روژه وه هغه په شوال کی هغه روژه ونیوله اوماته یی کړه نوقضاء باندی راځی اوکه دکفاری شپیته روژی باندی راځی؟

جواب: درمضان دقضایی روژی په پریښوولو کفاره نه سی راتللی ([3]).

یومسافر په سفرکی مړسو نو دهغه دروژی څه حکم دی؟ سوال: (۱۴۲۱) یو سړی په رمضان کی مسافرسو اوروژه یی نه وه اومړ سو، دهغه دروژی څه حکم دی؟

([1]). وان جامع الخ اواکل اوشرب غذاء الخ اودواء الخ عمدا قضی فی الصور کلها وکفر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۷ وص ۱۴۹ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۹). ظفیر

([2]). صام شهرین الخ متتابعین قبل المسیس ﷺ وکذا کل صوم شرط فیه التتابع (فأن أفطر بعذر) کسفر ونفاس، بخلاف الحیض ﷺ أو بغیره أو وطئها ﷺ استؤنف الصوم (درمختار) قوله (بخلاف الحیض) فإنه لا یقطع کفارة قتلها وإفطارها لأنها لا تجد شهرین خالیین عنه ﷺ (ردالمحتار باب مایفسد الکفارة ج۲ ص ۷۹۹ – ۸۰۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۷۲). ظفیر

([3]). وان جامع الخ فی رمضان اداء لمامر (درمختار) ای من ان الکفارة انما وجبت لهتك حرمة شهر رمضان فلا یجب بافساد قضائه ولابافسادصوم غیره (ردالمحتار باب مایفسدالصوم ج۲ ص۱۴۷، ط. س. ج۲ ص۴۰۹). ظ

جواب: په هغه باندی قضایی روژه لازمه نه ده اوفدیه یاوصیت بالفدیه هم لازم نه دی (۱). فقط

په لواطت باندی قضاء اوکفاره دواړه لازمیږی: **سوال**: (۱۴۷۱) زید درمضان المبارك په میاشت کی دیو هلك سره لواطت وکی چی انزال هم وسو اوس په زید باندی درمضان قضایی راځی اوکه نه کفاره هم باندی راځی؟

جواب: په دی صورت کی قضاء اوکفاره دواړه لازم دی (۲). فقط

دروژی په حالت کی دیو بزرګ دناړی تبرکاً په تیرولو باندی قضاء اوکفاره دواړه لازمیږی اوکه نه یو؟ **سوال**: (۱۴۸۱) که یوسړی په روژه کی دیو بزرګ ناړی تبرکاتیری کړی نوروژه یی ماتیږی اوکه نه؟ اوقضا ورباندی لازمیږی اوکه نه؟

جواب: روژه یی ماته سوه اوقضاء اوکفاره دواړه ورباندی لازم سو. کما فی الشامی ولو بزاق حبیبه اوصدیقه وجبت کما ذکره الحلوانی لانه لا یعافه الخ (ردالمحتار جلد ثانی کتاب الصوم (۳). فقط

یوسړی میاشت ولیده او روژه یی ونیوله لیکن نورو ونه منله ده هم ماته کړه نوڅه حکم دی؟

سوال: (۱۴۹۱) که یوسړی په ۲۹ دشعبان درمضان میاشت ولیده اوقول یی ونه منل سو لیکن روژه یی ونیوله اوبیایی ماته کړه نوپه ده باندی یواځی قضا لازم ده اوکه کفاره هم؟

جواب: په دی صورت کی ددی روژی صرف قضاء لازم ده اوکفاره واجب ده. کمافی الدر المختار ای هلال رمضان اوالفطر ورد قوله الخ صام فان افطر قضی فقط الخ (۴) درمختار.

دپیشلمی دنه خوړلو دوجه څخه شکمن سو چی روژه ونیسم اوکه نه بیایی وخوړه نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۵۰۱۱) په روژه کی یی دسترګو دنه خلاصیدو په وجه پیشلمی ونه کړی ترماپښینه یی اراده شکمنه وه چی نن روژه ونیسم اوکه نه، بیادماپښین په وخت یی ماته

---

(۱). فان ماتوا فیه ای فی ذالك العذر فلاتجب علیهم الوصیة بالفدیة لعدم ادراکهم عدة من ایام اخر (درمختار) ای فلم یلزمهم القضاء ووجوب الوصیة فرع لزوم القضاء (ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة ج۲ ص ۱۲۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۳). ظفیر

(۲). وان جامع المکلف آدمیا مشتهی فی رمضان اداء او جومع وتوارت الحشفة فی احد السبیلین ای القبل او الدبر وهو الصحیح فی الدبر والمختار انه بالاتفاق الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۷ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۹). ظفیر

(۳). ردالمحتار باب مایفسد الصوم وما لایفسد ج۲ ص ۱۴۸ ، ط. س. ج۲ ص ۴۱۰. ظفیر

(۴). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۲ – ۱۲۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۴. ظفیر

کړه نوقضاء لازمه ده که کفاره هم؟

په غرمه کی یی نیت وکی اوروژه یی ماته کړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲\۱ ۱۵۱) که ماپښین یی نیت وکی او بیایی افطار وکی نوڅه حکم لری؟

جواب: ۱\۱: په دی صورت کی صرف قضاء لازمه ده ځکه چی دروژی یی په پوخ ډول سره نیت نه وو کړی. کذا فی الدر المختار (۱). فقط

۲\۱: په دی صورت کی هم صرف قضاء لازمه ده اوکفاره لازمه نه ده. کما صرح به فی الدر المختار اواصبح غیر ناوٍ للصوم فاکل عمداً ولو بعد النیة قبل الزوال لشبهة خلاف الشافعی (۲) الخ (شامی) اوپه شامی کی دی چی دامذهب دامام ابوحنیفه رحمه الله دی او مذهب دصاحبینو دادی چی مخکی ترزوال یعنی قبل نصفِ نهار شرعی (شامی) که دروژی نیت یی کړی وی او بیایی افطار وکی نوقضاء اوکفاره دواړه لازم دی لیکن صحیح عدم لزوم دکفاری دی (۳).

ددیرشم دماپښین څخه وروسته یی میاشت ولیده نوڅه وکړی دافطار په صورت کی وربانِدی قضاء لازمه ده اوکه کفاره هم؟ سوال: (۱۵۲\۱) درمضان په دیرشم دماپښین څخه وروسته یی میاشت ولیده نوروژه ماتول جائزدی اوکه ناجائز؟ اوچی څوك روژه ماته کړی نوپه هغه باندی قضاء اوکفاره دواړه واجب دی اوکه نه؟ اوکه قبل الزوال میاشت ووینی نوڅه حکم دی؟

جواب: دامیاشت چی دبلی شپی ده لهذا روژه ماتول یی صحیح نه دی اوقضاء اوکفاره وربانِدی واجب دی، دزوال څخه وروسته په اتفاق دائمه ثلاثه وو قضاء اوکفاره وربانِدی واجب ده، اوقبل الزوال دمیاشتی په لیدلوکی امام اعظم اوامام محمد رحمهما الله قضاء او کفاره واجب ګڼلی ده اوهمدا مختاره ده اودامام ابویوسف رحمه الله په نزد هغه میاشت چی قبل الزوال ولیدل سی نوهغه دتیری شپی ده او دروژی افطارول لازم دی لکن بیا معلوم سوه چی مختار اومفتی به قول دامام اعظم اوامام محمد رحمهما الله دی په شامی کی وروسته

(۱). او اصبح غیر ناوٍ للصوم فاکل عمداً ولوبعد النیة قبل الزوال شبهة خلاف الشافعی الخ قضی فی الصور کلها فقط (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۳ ، ۴۰۲). ظفیر

(۲). قوله: (لشبهة خلاف الشافعي) فإن الصوم لا یصح عنده بنیة النهار ﴿ قوله: (قبل الزوال) هذا عند أبي حنیفة، وعندهما کذلك إن أکل بعد الزوال، وإن کان قبل الزوال تجب الکفارة لانه فوت إمکان التحصیل فصار کغاصب الغاصب بحر: أي لانه قبل الزوال کان یمکنه إنشاء النیة وقد فوته بالاکل، بخلاف ما بعد الزوال، والاول ظاهر الروایة کما في البدائع (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۳). ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۱ ص ۱۴۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۹۳. ظفیر

دنقلولو داختلاف څخه فرمايلی دی. والمختار قولهما (١). فقط

په اخری ورځ کی چا مباشت وليدله او روژه يی وخوړه، نوڅه حکم دی؟ سوال: (١٥٣١) که درمضان په ديرشم تاريخ دزوال څخه وروسته څه حصه دورځی تيره سی چامباشت وليده اودا خيال يی وکی چی کله مباشت وختنه نوروژه نه ده نوهغه روژه ماته کړه نوهغه صحيح اودرست کار وکی اوکه نه په ده باندی قضاء اوکفاره واجب ده؟

جواب: (دبل ځای څخه) په مسئوله صورت کی يوه مجيب جواب ليکلی دی چی خلاصه يی داده چی هغه دمستقبلی شپی مباشت ده او دروژی دافطارولو په موجب يې هغه قضاء ګڼلی ده نه موجب دکفاری اوپه مسئوله صورت کی يی په دی باندی قياس وکی، اذا تسحر علی يقين ان الفجر لم يطلع اوافطر علی يقين ان الشمس قدغربت الخ. نوپه دی باندی حضرت مفتی صاحب فرمايلی دی چی:

جواب: (دحضرت مفتی صاحب) اقول وبالله التوفيق، ورؤية بالنهار لليلة الآتية مطلقا الخ ای سواء رئی قبل الزوال او بعده وقوله علی المذهب الی الذی هو قول ابی حنيفة ومحمد رحمهما الله الخ وقال ابويوسف ان كان بعد الزوال فكذلك وان كان قبله فهو لليلة الماضية الی ان قال والمختار قولهما الخ (شامی (٢). ج٢.

ددی عبارت څخه واضحه سوه چی بعد الزوال که دديرشم تاريخ دورځی مباشت په نظر راغله نوپه اتفاق دائمه ثلاثه هغه دآينده شپی ده اودتيری شپی نه ده نودغه ورځ په اتفاق درمضان ورځ ده لهذا دورځی دافطار کولو څخه قضا اوکفاره دواړه په اتفاق لازم کيږی، ځکه چی بعد الزوال کی داختلاف شبهه هم نسته اوداجهل ددغه مضطر دمسئلی څخه ټول دکفاری دسقوط سبب نه کيږی اوقياس ددی مسئلی پر: اذا تسحر علی يقين ان الفجر لم يطلع اوافطر علی يقين ان الشمس قد غربت الخ (٣). باندی صحيح نه دی ځکه چی په دا مسئله کی دغروب يقين دی اودلته دعدم غروب يقين دی. فاين هذا من ذالك.

فکريی وکی چی لمر پريوتی نوافطار يی وکی مګر دافطار څخه وروسته لمر وليدل سو نوڅه

---

(١). رؤية بالنهار لليلة الاتية مطلقا علی المذهب ذكره الحدادی (درمختار) أي سواء رئي قبل الزوال أو بعده، وقوله علی المذهب: أي الذي هو قول أبي حنيفة ومحمد. قال في البدائع: فلا يكون ذلك اليوم من رمضان عندهما. وقال أبو يوسف: إن كان بعد الزوال فكذلك، وإن كان قبله فهو لليلة الماضية ويكون اليوم من رمضان والمختار قولهما. (ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١٣٠، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢). ظفير

(٢). وګوری ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص ١٣٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٢. ظفير

(٣). وګوری ردالمحتار كتاب الصوم باب مايفسد الصوم ج٢ ص١٤٣ – ١٤٤، ط. س. ج٢ ص٤٠٥، والجوهرة النيره كتاب الصوم ج١ ص ١٤٨. ظفير

حکم دی؟ **سوال**: (۱۵۴) یوه ورځ په رمضان شریف کی ډیره زوره وره وریځ او تیاره وه دایی وګڼله چی دافطار وخت سوی دی اولمر ډوب سویدی، نوروژه یی افطار کړه، دافطار څخه وروسته لمر را وختی نوڅه حکم دی؟

جواب: ددی روژی قضاء لازمه ده خوکفاره ورباندی نسته اوځه ګناه یی هم ونه سوه مګر ددی روژی قضا ضرور په کارده (١). فقط

که دمباشرت سره انزال ونسی نوقضا واجب ده اوکه کفاره هم؟ **سوال**: (۱۵۵) یوسړی دروژی په حالت کی دورځی دخپلی ښځی سره مباشرت وکی لیکن انزال یی ونه سو نوپه دی حالت کی کفاره واجب ده اوکه نه؟

جواب: که دخول سوی وی نوقضاء اوکفاره دواړه واجب دی که انزال سوی وی اوکه نه وی. کمافی الدر المختار وان جامع الخ اوجومع وتورات الحشفة فی احد السبيلين انزل ولا الخ قضی وکفر الخ (٢). فقط

یوغیر روژه دار میره دروژه داری ښځی سره جماع وکړی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۵٦) یوبی روژی سړی درمضان په میاشت کی دخپلی روژه داری ښځی سره په دی ګمان چی شاید دهغې هم روژه نه وی صحبت یی ورسره وکی اوښځه پوهیده چی زما روژه سړی ته معلومه ده نوکیدی سی په روژه کی مباشرت جائزوی تردی چی دسړی څخه پوه سوه سړی سمدستی جلا سو اوس کفاره په چا باندی سوه؟

جواب: په دی صورت کی که دخول وسو نوکفاره پرښځی لازمه ده. وان جامع الخ اوجومع وتوارت الحشفة فی احد السبيلين الخ قضی وكفر الخ (٣). اوکه په یووار شپیته (٢٠) مسکینانو ته دوه وخته خوراك نسی ورکولی نو دا هم درسته ده چی یو مسکین ته تر شپیته ورځی پوری خوراك ورکړی اویا روزانه یی قیمت چی نیم پیمانه غنم دی ورکړی اویاشپیتو مسکینانو ته څه بدل ډول قیمت تقسیم کی چی هرمسکین ته یوه فطره قیمت یعنی نیمه پیمانه غنم دپاؤ باندی دوو سیرو قیمت ورکی (٤).

دمباشرت فاحشه چی انزال پکښی وسی څه حکم یی دی؟ **سوال**: (۱۵۷) درمضان دروژی په حالت کی یوسړی مباشرت فاحشه وکی چی انزال وسو وروسته له یوساعت دوه

---

(١). اذا تسحر وهو يظن ان الفجر لم يطلع فاذا هو قد طلع اوافطر وهو يرى ان الشمس قدغرب فاذا هی لم تغرب الخ عليه القضاء ولاكفارة عليه (هدايه باب مايوجب القضاء والكفارة ج١ ص ٢٠٧). ظفير

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مايفسد الصوم وما لايفسده ج٢ ص ١٤٧ وص ١٤٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩). ظفير

(٣). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج٢ ص ١٤٧ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩. ظفير

(٤). حواله یې مخکی تیره سویده.

ساعته څخه یی جماع هم وکړه اوخوراك وغیره یی هم وکړی، نوپه داسی حالت کی یی کفاره په غاړه سوه اوکه نه؟

جواب: دمباشرت فاحشه سره که انزال وسو نوروژه ماته سوه ددغه څخه وروسته په خوراك چښناك اودجماع کولو سره کفاره نه لازمیږی. قال فی الدرالمختار اولمس ولو بحائل لایمنع الحرارة واستمنی بکفه اوبمباشرة فاحشة فانزل الخ قضٰی الخ (١).

په لواطت کی حشفه ډوبه سی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (١٥٨) که یوچا دروژی په حالت کی لواطت وکی اوذکر سر یی ډوب سو خوانزال یی ونه سو، نو درمضان دروژی کفاره ورکول واجب کیږی اوکه نه؟

جواب: په لواطت کی چی حشفه غائبه سی که څه هم منی ونه وتله یعنی انزال ونه سو قضاء اوکفاره لازم ده. کمافی الدرالمختار وان جامع المکلف ادمیا مشتهی فی رمضان ادا لمامر اوجومع وتوارت الحشفة فی احد السبیلین انزل اولا الخ قضٰی فی الصور کلها وکفر الخ (٢). درمختار

په صبح صادق کی یی شیدی وچښلی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (١٥٩) که یوچا دصبح صادق په وخت شیدی وچښلی اوروژه یی ونیوله، نوپه هغه باندی ددی ورځی قضاء واجب ده اوکه نه ددی په ځای شپیته روژی نیول باندی واجب کیږی؟

جواب: که درمضان روژه وی اوصبح صادق کیدل ده ته معلوم وی نوبیا شیدی وچښی نوکفاره اوقضا دواړه لازم دی (٣)، اوکه ده ته دصبح صادق کیدل معلوم نه وی هغه دا فکر وکی اوشیدی یی وچښلی اوپیشلمی یی وکړی چی تراوسه لاسبا نه دی سوی نو صرف قضا ورباندی لازمه ده اوکفاره واجب نه ده (٤).

درمضان په روژه کی دتبی دامله په افطار کولو مجبوره سو نو څه حکم دی؟ **سوال**: (١٦٠)

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٤٢ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٤) که چیری دنارینه په مباشرت فاحشه کی انزال وسو نوصرف دده روژه ماتیږی نه دښځی اوکه ددی هم انزال وسو نوددی هم روژه ماته سوه اوسړی که ددغسی فاسد والی څخه وروسته جماع وکړه نو پرده باندی کفاره نسته، خوکه دده ښځی په رضا اوخوښی یی ورسره جماع کړی وی نوپه دی باندی کفاره هم سته لیکن شرط دادی چی مخکی به یی روژه نه وی ماته سوی. والله اعلم . ظفیر

(٢). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، باب مایفسد الصوم ج٢ ص١٤٧ وص١٤٩، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩. ظ

(٣). او اکل اوشرب غذاء اودواء الخ عمدا الخ قضی الخ وکفر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ما یفسد الصوم الخ ج٢ ص ١٤٧ – ١٤٨ – ١٤٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩). ظفیر

(٤). اوشرب نائما اوتسحر اوجامع علی ظن عدم الفجر الخ قضی فی الصور کلها فقط (درمختار) ای بدون کفارة (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٣٩ وص ١٤٤ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩). ظفیر

كه يوسړی درمضان په روژه كی تبی ونيولی اودسخت تكليف دامله يی افطار وكی نو قضا واجب ده اوكه كفاره؟

جواب: قضاء لازمه ده اوكفاره لازمه نه ده ([1]).

دنه پوهيدو په وجه يوسړی درمضان په ورځ كی دښځی سره جماع وكړه يايی په لاس باندی منی وايسته نوځه حكم دی؟ **سوال**: (١٢١) كه چاپه رمضان المبارك كی روژه نيولی وی اودا ورته معلومه وه چی دخپلی ښځی سره په صحبت كولو كفاره لازميږی نوصحبت يی وكی يايی په لاس باندی منی وايسته په دواړو صورتونو كی كفاره لازمه ده اوكه نه؟ اوروژه ښه ده اوكه شپيته مسكينانو ته ډوډی وركول؟

جواب: په اولنی صورت كی كفاره لازمه ده ([2])، اوپه دوهم صورت كی يعنی استمناء بالكف كی كفاره نسته صرف ددی روژی قضاء لازمه ده ([3]). اوپه كفاره كی كه دغلام دازادولو وس ونه ليری كما فی هذه البلاد نودوی مياشتی به سرپه سر روژه نيسی اوداطعام ستين مسكينا څخه دوی مياشتی روژی مقدمی دی، اوكه دروژو طاقت يی نه وی نو بياپه دی وخت كی شپيته مسكينانو ته دوه وخته خوراك وركول يا هريوه ته دفطری په اندازه غله يا دهغه دقيمت وركولو اجازه ده ([4]). فقط

دسخت غم يا دسفر دوجه دروژی دماتولو څه حكم دی؟ **سوال**: (١٢٢) روژه دار دسختی تندی څخه روژه ماته كړه يايی په سفر كی روژه ماته كړه نودده دپاره څه تعزيردی؟

جواب: كه تنده دومره شديده وی چی دمړ كيدلو بيره وی يايی دعقل دزائليدو بيره وی نوپه دی حالت كی افطار كول جائز دی اوددی څخه وروسته بيا ددی روژی قضاء لازمه ده اوپه همدی ډول په سفركی روژه ماتول په كارنه دی، خوكه ماته يی كړه نوقضاء لازمه

([1]). وبقی الاكراه وخوف هلاك اونقصان عقل لو بعطش اوجوع شديد الخ الفطر يوم العذر الخ وقضوا الزوما ما قدروا بلا فدية الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبيحة ج١ ص ١٥٨ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢١). ظفير

([2]). وان جامع المكلف آدميا مشتهی فی رمضان اداء اوجومع وتوارت الحشفة فی احد السبيلين انزل اولا الخ قضی فی الصور كلها وكفر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج٢ ص ١٤٧ وص ١٤٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٨٩). ظفير

([3]). وكذا الاستمناء بالكف (درمختار) ای فی كونه لايفسد لكن هذا اذا لم ينزل اما اذا انزل فعليه القضاء (رد المحتار باب مايفسد الصوم ج٢ ص ١٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٩٩) اواستمنی بكفه الخ فانزل قضی فی الصور كلها فقط ، (ايضا ج٢ ص ١٤٢). ظفير

([4]). وكفر الخ ككفارة المظاهر (درمختار) ای مثلها فی الترتيب فيعتق اولا فان لم يجد صام شهرين متتابعين فان لم يستطع اطعم ستين مسكينا الخ (ردالمحتار باب مايفسد الصوم مطلب فی الكفارة ج٢ ص ١٥٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤١٢). ظفير

ده اوكفاره نه ([1]). كذا فى الدر المختار.

دهلاكيدلو انديښنه وه افطار يې وكې نواوس څه وكړي؟ **سوال:** (\١٢٣) دزيد دهلاك كيدو بيره وه له دې امله يې روژه افطار كړه نواوس كفاره واجب ده اوكه نه؟

جواب: په دې صورت كې كفاره واجب نه ده ([2]). فقط

په سفركې په روژې ماتولو مجبوره سو نو پر ده باندې څه واجب دي؟ **سوال:** (\١٢۴) زيد اوبكر دشپې يوولس بجې په سفر باندې روان سول چې داتيا ميله څخه يې مسافه ډيره وه اودروژې نيت يې وكې منزل ته ورسيدل دتندې اودګرمې دشدت په وجه بې هوښه سول نومجبوراً دورځې په درې بجويې روژه ماته كړه نوپه دې صورت كې قضاء لازميږي اوكه كفاره؟

جواب: په دې صورت كې صرف قضاء لازميږي نه كفاره، په درمختار كې دي: وبقى الاكراه وخوف هلاك او نقصان عقل ولو بعطش اوجوع شديد اولسعة حية الخ ([3]). فقط

دروژې په حالت كې په يوچا باندې بوج راغي نوخامه غوښه ياوريجې يې وخوړلې نوڅه حكم دي؟ **سوال:** (\١٢۵) يوسړى دروژې په حالت كې قصداً خامه غوښه ياوريجې يې وخوړلې نوپه دې سړي باندې قضاء واجب ده اوكه كفاره هم؟

جواب: په قصداً دخامې غوښې يا دوريجو په خوړلو باندې قضاء اوكفاره دواړه واجب دي. ولكن يشكل على ذالك وجوب الكفارة باكل اللحم النيئ ولومن ميتة الا اذا امتن ودود فانى لم ار من ذكر فيه خلافا مع انه اشد عيانة من اللقمة المخرجه ([4]) الخ رد المحتار ثم اجاب عن الاشكال.

درمضان په ورځ دښځې سره صحبت كول څنګه دي؟ اودشپې دڅه وخت اجازه ده؟ **سوال:** (\١٢٦) په رمضان كې كه خاوند دخپلې ښځې سره واقع سو دورځې نوڅومره ګناه ده او څه كفارهورباندې ده؟ اودشپې دڅه وخت څخه ترڅه وخته پورې دخپلې ښځې سره (صحبت) كولى سي؟ اوكم وخت صاف كيدل په كاردي؟

جواب: دورځې دخپلې ښځې سره صحبت كول ګناه كبيره ده ، او په دې كې كفاره دقضاء

([1]). وبقى الاكراه وخوف هلاك اونقصان عقل ولوبعطش اوجوع شديد اولسعة حية الخ الفطر الخ وقضوا لزومًا ماقدروا بلافدية (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم ج٢ ص ۵٨ ، ط. س. ج٢ ص ۴٢١) . ظفير

([2]). وبقى الاكراه وخوف هلاك الخ الفطر الخ (ايضا) ط. س. ج٢ ص ٣٢١. ظفير

([3]). الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم ج٢ ص ١۵٨ ، ط. س. ج٢ ص ۴٢١. ظفير

([4]). ردالمحتار كتاب الصوم باب مايفسد الصوم وما لايفسد ج٢ ص ١۴٨ ، ط. س. ج٢ ص ۴١٠. ظفير

سره واجب ده، اوکفاره یی داده چی غلام ازاد کړی، اوکه دانه کیږی نوشپیته ورځی دی سرپه سر روژی ونیسی اوکه داهم نسی کولی نوشپیته مسکینانو ته دی دوه وخته خوراك ورکړی ([1]) اودشپی دلمر پریوتو څخه وروسته دصبح صادق څخه مخکی مخکی صحبت کول درست دی ([2]) اوغسل دسبا څخه وروسته هم کولای سی ([3]). فقط

سهار یی سترګی خلاصی کړی پیشلمی یی نه وو کړی اونه یی دروژی نیت کړی وو نوڅه حکم دی؟

سوال: (١٦٧) نن سهار یی پر ۴ بجی او۱۳ منته دپیشلمی دپاره سترګی خلاصی کړی دآسمان سپیدی چادولی وی چی میاشت ښه ښکاره کیده یوسړی ښه پوهیدی اوروژه یی ونه نیوله اودروژی نیت یی هم ونه کی، آیاپه ده باندی روژه نیول واجب وو اوکه نه؟ ددی روژی په ځای په ده باندی دیوی روژی نیول ضروری سوه اوکه نه زیاتی، یوی ښځی په ذکر سوی وخت کی پیشلمی وخوړی نوددی روژه وسوه اوکه نه؟ په دی یوه روژه نیول دی اوکه نه؟ یوسړی چی دهغه دروژی نیت دماښام څخه کافی نه وو، په دی بناء یی روژه ونه نیوله چی هغه پنځلس میله په سفر پیدل ځی روژه نه نیسی نوپه دی صورت کی شرعاً څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی چی داول څخه یی دروژی نیت نه دی کړی اوپه دی ورځ روژه نیول ورته ضروری اوفرضی وه، لیکن چی وی نه نیوله اونیت یی ونه کی نوقضاء صرف یوه روژه ورباندی لازمه ده اوهغه ښځه چی په ذکرسوی وخت کی یی پیشلمی وکی نو چونکه صبح صادق ختلی وو نوددی داروژه ونه سوه اوددی ورځی قضاء ورباندی لازمه ده اوکفاره ساقطه ده، اوپنځلس میله سفر دروژی دافطار دپاره مبیح نه دی، لیکن تر څو چی یی دروژی نیت نه وی کړی نوصرف قضاء ورباندی لازمه ده اوکفاره واجب نه ده. ([4])

([1]). وان جامع المکلف ادمیا مشتهی فی رمضان ای نهارا وجومع وتوارت الحشفة فی احد السبیلین الخ قضی الخ وکفرالخ ککفارة المظاهر (درمختار) ای مثلها فی الترتیب ویعتق اولا فان لم یجد صام شهرین متتابعین فان لم یستطع اطعم ستین مسکینا الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۷ وص ۱۴۹ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۹). ظفیر

([2]). واحل لکم لیلة الصیام الرفث الی نسائکم هم لباس لکم وانتم لباس لهن (الی قوله تعالی) حتی یتبین لکم الخیط الابیض من الخیط الاسود من الفجر (البقره : ۲۳۰) . ظفیر

([3]). او صبح جنبا الخ لم یفطر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۱ ص ۱۳۸ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۰). ظفیر

([4]). او اصبح غیر ناوٍ للصوم فاکل عمداً الخ اوتسحر اوافطر یظن الیوم الخ لیلا والحال ان الفجر الخ قضی فی الصور کلها فقط (درمختار) ای بدون کفارة (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۱ وص ۱۴۴ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۳). ظفیر

دروژی کفاره دغنمو څخه څومره ورکړی؟ سوال: (۱۱\۱۲۸) دروژی په کفاره کی که پاخه غنم ورکوی نوڅومره ورکړی؟

ډوډی ورکولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۲\۱۲۹) ډوډی بغیر دترکاری څخه ورکولی سی او که نه؟

جواب: ۱\: پوخ سوی خوراك ورکول هم جائزدی دوه وخته دی په ماړه نس ورکړی. (۱)
۲\: که بی دترکاری څخه ډوډی دغه خلګو ته په ماړه نس ورکړی نودا هم صحیح دی (۲). فقط

په سفرکی دسختی دوجهی که روژه ماته کړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۷۰\) که یوسړی ته په رمضان کی داسی سفر ورپه غاړه سی چی شرعًا ورباندی مسافرنه سی ګڼل کیدلی، نوددغه وجه څخه هغه دروژی په حالت کی سفر وکی اوپه غرمه کی دسختی ګرمی دوجه بی تحمله سی اوروژه ماته کړی نوپه ده باندی قضاء کول په کاردی اوکه نه کفاره هم لازمیږی؟

جواب: په دی صورت کی په دی سړی کفاره لازم نه ده صرف قضاء لازمه ده (۳). فقط

دپیشلمی څخه وروسته دښځی سره په یوه بستره کی نتوځی بیامعلومه سی چی صبح صادق ختلی وو نوڅه وکړی؟ سوال: (۱۷۱\) یوسړی په رمضان کی دپیشلمی دخوراك څخه دفارغ کیدلو وروسته په داسی وخت کی بی دخپلی ښځی سره صحبت وکی چی هغه ته ددی علم سوی وو چی صبح صادق ختلی دی اوبیا هغه روژه هم ونیوله اوهغه په دی ښه پوهیدی چی په دی صورت کی قضاء راځی ، ایا کفاره هم ده ورباندی ؟

جواب: په دی صورت کی که وروسته ورته ښکاره سوه چی رشتیا هم صبح صادق سوی دی نوددی روژی قضاء په دی سړی باندی لازمه ده اوکفاره واجب نه ده. قال فی الدر المختار اوتسحر اوافطر یظن الیوم الخ لیلا الخ قال فی الشامی (۴) وقوله لیلا لیس

---

(۱). فإن عجز عن الصوم لمرض ﷺ أطعم ستین مسکینا ولو حکما ﷺ کالفطرة قدرا ومصرفا أو قیمة ذلك من غیر المنصوص ﷺ وإن أرادوا الاباحة فغداهم وعشاهم ﷺ او اطعم غدائین او عشائین ﷺ واشبعهم جاز بشرط ادام في خبز شعیر وذرة لابر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکفارة ج۲ ص ۸۰۱ وص ۸۰۳ ، ط. س. ج۲ ص ۴۷۲) . ظفیر

(۲). وفی التتارخانیة والمستحب ان یغدیهم ویعشیهم بخبز معه ادام (ردالمحتار باب الکفارة ج۲ ص ۸۰۳ ، ط. س. ج۲ ص ۴۷۲). ظفیر

(۳). وفی الاکراه وخوف هلاك اونقصان عقل ولو بعطش اوجوع شدید الخ الفطر (الدر المختار علی هامش رد المحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۵۸ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۱). ظفیر

(۴). وګوری ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۴۳ ، ط. س. ج۲ ص ۴۰۵. ظفیر

بقيد لانه لوظن الطلوع واكل مع ذالك ثم تبين صحة ظنه فعليه القضاء ولاكفارة الخ ، ليکن دده دافعل جائزنه دی چی سره ددی څخه چی دصبح صادق دختلو څخه خبر وو اوداسی یی وکړل اودده ښه پوهه غلطی اودجهل خبره ده اومعصیت دی ددی څخه دی توبه وکاږی اوپه ائنده کی دی داسی نه کوی. وليس له ان ياكل لان غلبة الظن كاليقين (١). شامی. فقط

په چاچی کفاره لازمه ده نودهغه قیمت اداء کول څنګه دی؟ **سوال**: (١٧٢) په زید باندی درمضان دروژی کفاره ده لیکن هغه نه شپیته روژی سرپه سرنیولی سی اونه شپیتو مسکینانو ته دوی ورځی ډوډی ورکولی سی آیا په دی صورت کی یی قیمت ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: که شپیتو مسکینانو ته نغدی ورکړی په داسی طریقی سره چی هریو مسکین ته دنیمایی صاع غنمو یادیو صاع اوربشی قیمت ورکړی نوکفاره اداء کیږی، كمافی الدرالمختار فان عجز عن الصوم الخ اطعم ستين مسكينا كالفطرة قدرًا اومصرفا او قيمت ذالك الخ (٢). فقط

داورد لګیدو دوجه څخه دروژی ماتول، ددی دپاره څه حکم دی؟ **سوال**: (١٧٣) په کلوکی په رمضان المبارك کی سخت اور ولګیدی بعض سړو اوښځو روژی ماتی کړی، نوپه دوی یواځی قضاء لازم ده اوکه کفاره هم؟

جواب: په دی اورلګیدلو کی که یې دشدت دلوږی اوتندی یا دځان دبیری دوجه څخه روژه ماته کړی وی نوپه هغوی باندی صرف قضاء لازمه ده اوکفاره واجب نه ده. كذافی الدرالمختار (٣). فقط

دبی خبری دوجه څخه یی دسهار داذان څخه وروسته پیشلمی وکی نو اوس څه وکړی؟

سوال: (١٧٤) هندی په رمضان کی دسهار داذان څخه وروسته دپیشلمی خوراك وخوړی اوهندی ته په مطلق ډول خبرنه وو نوڅه حکم دی؟

جواب: ددی روژی قضاء راوړل په کارده ځکه چی دغه روژه نه ده سوی صرف ددی روژی قضاء واجب ده اوکفاره لازمه نه ده (٤).

---

(١). ردالمحتار باب ايضا ج١ ص١٤٣ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٥. ظفير

(٢). الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل فى العوارض المبيحة ج٢ ص ١٥٨ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٢. ظفير

(٣). وبقى الاكراه وخوف هلاك اونقصان عقل ولوبعطش اوجوع شديدا ولسعة حية الخ الفطر وقضوا لزومًا (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل فى العوارض المبيحة ج٢ ص ١٥٨ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢١). ظفير

(٤). اذا تسحر وهو يظن ان الفجر لم يطلع فاذا هوقد طلع الخ عليه القضاء الخ ولا كفارة عليه لان الجناية قاصرة لعدم القصد (هدايه باب مايوجب القضاء ج١ ص ٢٠٧ ج٢ ص). ظفير

اووم باب

دروژی کفاره

دروژی په کفاره کی څه شی ښه دی؟ **سوال**: (۱۷۵) دروژی په کفاره کی عتق رقبه، یا شپیته مسکینانو ته ډوډی ورکول یادوی میاشتی سر په سر روژه نیول دی، ددی واړو حکمونو څخه برتر اومحکم تردوی میاشتی سر په سر روژه نیول ښه اوغوره کاردی که څه هم دعتق توانایی ولری اوکه یا دشپیته مسکینانو ته دډوډی ورکولو وس ولری؟

جواب: دغه دری کارونه په کفاره کی ترتیب لری او واجب دی، اول تحریر رقبه که هغه ممکن نه وی نودوی میاشتی متواتری روژی نیول واجب دی اوکه داهم متعسر وی نو بیابه اطعام ستین مسکینا لازم وی نوحاصل داچی باوجود دتوان داعتاقو صیام جائزنه دی اوباوجود دصیام څخه اطعام جائزنه دی.کما هو منصوص فی النص (۱).

په کفاره کی که کم طالب العلم ته دوی میاشتی ډوډی ورکړی نو اداء کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۷۶) یو طالب العلم ته ډوډی ورکول دوی میاشتی دروژی په میاشت کی مقررول یعنی شپیته وخته جائزدی اوکه نه؟

جواب: دروژی په کفاره کی شپیته ورځی یوطالب العلم ته دوه وخته په مړه خیټه خوارك ورکول صحیح دی اوکفاره باندی اداء کیږی مګر مړول یی په کاردی ځکه چی په ورکولو کی هره ورځ پوره مقدار نیمه پیمانه یادهغه قیمت ورکول ضروری (۲) دی. فقط

دروژی دکفاری روپی دمدرسی په مصرف یادجومات په ابادولو کی یی مصرف څنګه دی؟

سوال: (۱۷۷) که دوی روژی په رمضان کی قصداً قضا سی نودهغه کفاره شپیته مسکنیانو ته خوراك ورکول په کاردی که ددی خوراك دقیمت څخه مدرسی ته څه

---

(۱). وکفر الخ ككفارة المظاهر الثانية بالكتاب واما هذه فبالسنة ومن ثم شبهوها (درمختار) قوله: (ككفارة المظاهر) مرتبط بقوله: وكفر أي مثلها في الترتيب فيعتق أولا، فإن لم يجد صام شهرين متتابعين، فإن لم يستطع أطعم ستين مسكينا لحديث الاعرابي المعروف في الكتب الستة ؒ ولا فرق في وجوب الكفارة بين الذكر والانثى والحر والعبد والسلطان وغيره ؒ في التشبيه إشارة إلى أنه لا يلزم كونها مثلها من كل وجه، فإن المسيس في أثنائها يقطع التتابع في كفارة الظهار مطلقا عمدا أو نسيانا ليلا أو نهارا للآية، بخلاف كفارة الصوم والقتل فيه فإنه لا يقطعه فيهما إلا الفطر بعذر أو بغير عذر ؒ والحاصل: أنه لا يقطع التتابع هنا الوطئ ليلا عمدا أو نهارا ناسيا، بخلاف كفارة الظهار (ردالمحتار كتاب الصوم باب مايفسد الصوم الخ مطلب فی الكفارة ج۲ ص ۱۵۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۱۲). ظفير

(۲). فان عجز عن الصوم الخ اطعم ای ملك ستين مسكينا الخ وان غداهم وعشاه الخ جاز الخ كفا جاز لو اطعم واحد ستين يومًا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الكفارة ج۲ ص ۸۰۱ وص ۸۰۳ ، ط. س. ج۲ ص ۴۷۲). ظفير

واخلی اووریبی کړی یعنی طالبانو ته دفرش انتظام وکړی نوجائز دی اوکه ناجائز او دمسجد په تعمیرولو کی یی دمصرفولو څه حکم دی؟

جواب: درمضان دیوی روژی په قصداً ماتولو کی دشپیته روژو سرپه سر نیولو حکم دی دقضاء دیوی روژی څخه بغیر نو ددوو روژو کفاره ١٢٠ ورځی روژی ده اوکه ددومره ورځو دروژی طاقت یی نه وو نوبیا دی دیوی روژی په ځای شپیته مسکینانوته دوه وخته خوراك ورکړی یا هرمسکین ته نیم صاع غنم یعنی پاو کم دوه سیره غنم یا دهغه قیمت ورکول دی اودمدرسی په ضروریاتو یادمسجد په تعمیرولو کی یی مصرفول صحیح نه دی ([1]). فقط

دیوی روژی په کفاره کی شپیته روژی ونیسی اوکه شپیته مسکینانو ته خوراک ورکړی؟

سوال: (١٧٨) زید درمضان په میاشت کی دروژی په حالت کی دیوی ښځی سره زنا وکړه، هغه اوس توبه کوی اووایی چی متواتر یوکال روژه نیول زماپه وس کی نسته په هره میاشت کی چی دوه یاڅلور روژی ونیسم داجائز دی اوکه ناجائز؟

جواب: درمضان دیوی روژی په پرېښوولو په کفاره کی دوی میاشتی دمتواتری روژی نیولو حکم دی نوده ته په کاردی چی شپیته روژی پرله پسی ونیسی اوکه په مینځ کی روژه پرېږدی نوکفاره یی نه اداء کیږی، اوکه دروژی طاقت یی نه وو، نوبیا شپیته مسکینانو ته دوه وخته ډوډی ورکول په کاردی ([2]). فقط

دروژی کفاره په توبی باندی معاف کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (١٧٩) زید چی دکفاری علم یی نه درلودی دخپلی ښځی سره یی دروژی په حالت کی جماع وکړه اوپه دې باندی چی کمه کفاره واجب سویده هغه هیڅ کله په هیڅ شکل سره نسی اداء کولی نوپه دی صورت کی دده توبه قبلیږی اوکه نه؟

جواب : دقضاء اودکفاری اداء په دی صورت کی ضروری ده، توبه دی وکړی، اوکه ددوو

([1]). وان جامع المکلف الخ اواکل اوشرب غذاء ودواء الخ عمداً الخ قضی الخ وکفر الخ کفارة الظهار (درمختار) ای کفر مثلها فی الترتیب ویعتق اولا فان لم یجد صام شهرین متتابعین فان لم یستطع اطعم ستین مسکینا (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٤٩ – ١٥٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩) مصرف الزکوٰة الخ وهو ایضا لصدقة الفطر والکفارات والنذر وغیر ذالك من الصدقات الواجبة الخ ویشترط ان یکون الصرف تملیکا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٧٩ وص ٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفیر

([2]). وان جامع المکلف آدمیا مشتهی فی رمضان اداء اوجومع وتوارت الحشفة فی احد السبیلین انزل اولا الخ عمداً الخ قضی الخ وکفر ککفارة المظاهر (درمختار) مرتبط بقوله وکفر ای مثلها فی الرتب فیعتق اولا، فان لم یجد صام شهرین متتابعین فان لم یستطع اطعم ستین مسکینا (ردالمحتار باب مایفسد ج٢ ص ١٤٩ – ١٥٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩). ظفیر

مياشتو پرله پسی دروژو طاقت نه لری نوشپيتو مسكينانو ته دی خوراك وركړی. فان لم يستطع فاطعام ستين مسكينًا. الايه [١]. فقط

دروژی په فديه كی كه يوه مياشت يو فقيرته خوراک ورکړی اوباقی په يووار ورکړی نوجائز دی اوكه ناجائز؟ **سوال**: (١٨٠)دروژی په فديه كی كه يوه مياشت كم او زيات يوه مسكين ته خوراك وركړی اوبقايا يوه مياشت كم اوزيات قيمت په يووار يوه ورځ وركړی نوجائز دی اوكه نه؟

جواب: په كفاره كی يوه محتاج ته ديوی ورځی په زياتو وركولو كی به يوه ورځ فديه ادا كيږی مثلا دقسم په كفاره كی لس مسكينانو ته يا دروژی په كفاره كی شپيتو مسكينانو ته دخوراك وركولو حكم دی نوپه هغه كی كه يوه فقيرته په يوه ورځ كی زيات مقدار وركی نوديوی ورځی دا يی اداء كيږی، اوزيات نه حسابيږی، اوشيخ فانی چی درمضان دروژو فديه ورته صحيح ده وركول يې. نوپه دی كی كه يوه محتاج ته دكمو روژو فديه وركړی نواداء كيږی څنګه چی په درمختار كی دی: وبلا تعدد فقير. په شامی كی دی. قوله وبلا تعدد فقير الخ ای بخلاف كفارة اليمين للنص فيها علی التعدد الخ، چونكی تا تصريح يی نه ده كړی چی ستا مراد دروژی كفاره ده چی شپيته مسكينانو ته خوراك وركول كيږی ، يا كم سړی چی دروژی دنيولو څخه عاجزه وی نوهغه كه فديه اداء كړی هغه دی مراد دی، داول اوثانی په حكم كی فرق دی په كفاره كی كه شپيته مسكينانو ته خوراك يا غنم يانغدی وركړی يا يومسكين ته يې شپيته ورځی وركړی دا ضروری دی. كه يومسكين ته په يوه ورځ كی زيات وركړی نوديوی ورځی دا به اداء سی حاصل داچی په كفاره كی دفقراء تعداد يادورځو تعداد ضروری اوپه فديه كی دتعداد دفقراوو اودايامو ضرورت نسته. [٢] فقط

دافطار په خبركی دكتاب القاضی الی القاضی شرائط څه دی؟ **سوال**: (١٨١) دماه رمضان دافطار دخبر په باره كی آيا دكتاب القاضی الی القاضی شرائط ملحوظ دی اوكه نه؟ كه ملحوظ وی نوكمی جزئيی دی؟ او دتارخبر معتبر دی اوكه نه؟

جواب: قال فی الدر المختار واختلاف المطالع الخ غير معتبر الخ فيلزم اهل المشرق برؤية اهل المغرب اذا ثبت

---

[١]. سورة المجادلة ركوع ١. وان جامع المكلف آدميا مشتهی فی رمضان اداء اوجومع وتوارت الحشفة الخ عمداً الخ قضی الخ اوكفر الخ ككفارة المظاهر الثابتة بالكتاب (درمختار) فيعتق اولا فان لم يجد صام شهرين متتابعين فان لم يستطع اطعم ستين مسكينا (ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج٢ ص ١٤٩ – ١٥٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩). ظفير

[٢]. ردالمحتار ج٢ ص ١٢٣ كتاب الصوم فصل فی العوارض ج٢ ص ٣٩٣. ظفير

عندهم رؤية اولئك بطريق موجب الخ وقال صاحب ردالمحتار فی شرح قوله: بطريق موجب كان يتحمل اثنان الشهادة او يشهدان على حكم القاضي او يستفيض الخبر ([1]) الخ فظهر انه لاحاجة الى كتاب القاضی الى القاضی فی اخبار الصوم والافطار لانه ليس بطريق متعين للايجاب. دتار خبر په افطار اوصوم کی شرعا معتبر نه دی خوکه چیری نور قرائن هم موجود وی نوبیا مفید دعمل کیدی سی. فقط

دروژی په کفاره کی ماشوم شریک سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (١٨٢\١) دروژی په کفاره کی که داتو یا دلسو کالو هلکان په خوراك خوړلو کی شریك کړی نوکفاره اداء کیږی او که نه؟

دوی ورځی یی وسوی چی وی خوړلی نوڅه حکم دی؟ سوال: (١٨٣\٢) که پنځلس یوه ورځ اوباقی بله ورځ وخوړل سی نوجائز دی اوکه نه؟

دمدرسی دمهتمم وکالت: **سوال**: (١٨٤ \٣) دمدرسی مهتمم دکفاری ورکولو که وکیل سی اوطلباوو ته په خوراك کی روپی مصرفوی چی دکفاری داداء کولو نیت یی نه وی کړی، هغه تهوکر واخلی ورکولی یې سی اوکه نه؟

جواب: \١: داتو یالسو کالو عمر ماشوم چی قریب البلوغ نه وی په خوراك ورکولو سره کفاره نه اداء کیږی البته که دهغه مقدار دکفاری تملیکاً ورکړی مثلا نیم صاع غنم یا دهغه دقیمت هریوه ماشوم په ملك کی کړی او وربی کړی نوصحیح دی. کذافی الدر المختار، اوپه شامی کی دی: قال فی الدرالمختار، ولا یجزی غیر المراهق. بدائع ([2]).

\٢: درست دی ([3]).

\٣: داسی کولی سی چی دکفاری په تهولی روپی باندی تهوکر واخلی اومحتاجو طلبه وو ته یی په ملکیت کی ورکړی داصحیح اودرست دی ([4]).

دروژی کفاره یی اداء کوله چی یوه روژه یی ونه سوه نوڅه وکړی؟ سوال: (١٨٥\١) یوسړی د

([1]). ردالمحتار مطلب فی اختلاف المطالع ج٢ ص ١٣١ – ١٣٢ ، کتاب الصوم، ط. س. ج٢ ص ٣٩٣. ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الکفارة ج٢ ص ٨٠٢، فالشرط فی طعام الاباحة کلتان مشبعتان لکل مسکین ولوکان فیهم شعبان قبل الاکل اوصبی غیر مراهق لم یجز (ردالمحتار ج٢ ص ٨٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ٤٧٢). ظفیر

([3]). ولو اطعم مسکینا واحدا ستین یوم کل یوم اکلتین مشبعتین جاز (عالمگیری کشوری ج٢ ص ٥٣٢ ماجدية ج١ ص ٥١٤). ظفیر

([4]). کالفطرة قدرا اومصرفا اوقیمة ذالك من غیر المنصوص (درمختار) والحاصل ان دفع القیمة انما یجوز لو دفع غیر المنصوص (ردالمحتار ج٢ ص ٨٠٢ ، ط. س. ج٢ ص ٤٧٨). ظفیر

کفاری روژه اداء کوی که اتفاقا دسهار داذان په وخت پیشلمی وخوری نوروژه یی صحیح ده اوکه نه؟ لس روژی یې نیولی دی اوکه روژه یی ونه سوه نودسر څخه دی روژی ونیسی اوکه نه؟

جواب: اعتبار صبح صادق ته دی اذان ته نه دی که دصادق سباکیدو څخه وروسته هغه پیشلمی وکی نوهغه روژه یی ونه سوه اوچی هغه روژه یی ونه سوله نوتتابع چی دشهرین متتابعین څخه ثابت دی فوت سو، نوهغه ته دسره څخه روژه نیول په کاردی ([1]). اوپه دی صورت کی چی دروژی څخه عاجز نه دی نواطعام ساقط دی. فان عجز من الصوم لمرض یرجی جبرئه اوکبیر اطعم ستین مسکینًا ([2]) درمختار. فقط

دصوم په کفاره کی تداخل صحیح دی اوکه نه؟ **سوال**: (١٨٦) دروژی په کفاره کی تداخل صحیح دی اوکه نه؟ یعنی که زید اتلس روژی درمضان بلاعذره عمداً قضاء کړی وی نوآیا دهری روژی جلا جلا کفاره ورکول دی اوکه یوه کفاره دټولو څخه کافی ده؟

جواب: ظاهر الروایة دادی چی په ده دهری یوی روژی کفاری علیحده لازمه ده اودامام محمد رحمه الله مذهب دادی چی یوه کفاره کافی ده اوددی هم تصحیح سویده لیکن ظاهر الروایة ته ترجیح ده. ولوتکرر فطره ولم یکفر للاول یکفیه واحدة ولوفی رمضانین عند محمد رحمه الله وعلیه الاعتماد الخ ([3]). اوپه شامی کی دی: قوله وعليه الاعتماد ونقله في البحر عن الاسرار، ونقل قبله عن الجوهرة لو جامع في رمضانين فعليه كفارتان وإن لم يكفر للاولى في ظاهر الرواية وهو الصحيح اهـ قلت: فقد اختلف الترجيح كما ترى، ويتقوى الثاني بأنه ظاهر الرواية. ([4])

دروژی کفاره مسجد اومدرسی ته ورکولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (١٨٧) په یوه سړی باندی دروژی کفاره ده که هغه شپیته مسکینانو ته دخوراك خرچه مسجد یامدرسی ته ورکړی نوجائزدی اوکه نه؟

جواب: په جومات اومدرسه کی ورکول درست نه دی په دی سره کفاره نه اداء کیږی ([5]) البته که په مدرسه کی طلباؤ ته په خوراك کی ولګوی نودرست دی په دی شرط چی دشپیته طالبانو دوه وخته خوراك وی یا دفطری په اندازه هریوه ته نیم صاع غنم یا دهغه

([1]). صام شهرين ولو متتابعين قبل المسيس الخ وكذاك ل صوم شرط فيه التابع فان افطر بعذر الخ اوبغيره الخ استانف الصوم (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار باب الكفارة ج٢ ص٧٩٩–٨٠٠ ، ط. س. ج٢ ص٤٧٢). ظ

([2]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الكفارة ج٢ ص ٨٠١ ، ط. س. ج٢ ص٤٧٢. ظفير

([3]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الكفارة ج٢ ص ١٥١ ، ط. س. ج٢ ص ٤١٣. ظفير

([4]). ردالمحتار باب مايفسد الصوم مطلب فى الكفارة ج٢ ص ١٥١ ، ط. س. ج٢ ص ٤١٣. ظفير

([5]). مصرف الزكوٰة ايضا والعشر (درمختار) وهومصرف ايضا لصدقة الفطر والكفارة والنذر وغير ذالك من =

قیمت ورکړي.

دکفارې په معافي کې دې یو صورت ولیکل سي: **سوال**: (۱۸۸) یوه سړي درمضان دوی روژې ضائع کړې هغه دمولوی محمد حسن صاحب په حکم روژې نیول شروع کړې او دیرش روژې یې نیولې دي لیکن هغه لوی کار کوي، نوکه چیرې یو صورت دسهولت وي نووی لیکی؟

جواب: ترڅو چې کفاره درمضان دروژې دافساد په وجه بلاعذره واجب سوي وي نو بیا هیڅ صورت دکفارې دسقوط اوسهولت په موجوده حالت کې نسته اودکفارې اداء کول ضروري دي. فقط

په څوروژوکې یې دکفارې موجب کار وکې نودټولو دپاره یوه کفاره کافي ده اوکه نه؟ سوال: (۱۸۹) زید څو روژې په خپل یو فعل چې موجب دکفارې وو، قضاء کړې نوده ته یوه کفاره کافي ده اوکه نه؟

جواب: یوه کفاره کافي ده ([1]). فقط

دکفارې په مینځ کې که دقرباني اختر راغي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۸۹) یوسړي درمضان دروژې کفاره اداء کوله چې په مینځ کې دقرباني داختروړځ واقع سوه نوځنگه چې داختر په ورځ روژه نیول حرام دي نو دمکفر شرعًا حکم څه دی، بیا دسره روژه ونیسي؟

جواب: بیادې دسره څخه ددوو میاشتې متواترې روژې ونیسي. قال فی الدرالمختار صام شهرین متتابعین لیس فیها رمضان وایام نهی عن صومها وکذا کل صوم شرط فیه التتابع الخ قوله وکذا کل صوم الخ ککفارة قتل وافطار الخ ([2]). شامی ج۲ ص ۵۸۱. فقط

په کفاره کې دروژې په ځای فدیه ورکړې نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۹۰) په زید باندې درمضان یوه کفاره ده اوهغه دوی میاشتې روژه نه سي نیولی نوکه زید په دار العلوم کې یوطالب العلم ته دادنۍ درجې دوی میاشتې خوراك چې کم فیس دی وروليږي نو کفاره اداء کیږي اوکه نه؟ اویا که زید یو غریب ته دري پاوه اوړه روزانه تردوو میاشتو پورې ورکړي اودلرگو اودترکارۍ دپاره څه روپۍ هم ورکړي نوکفاره اداء کیږي اوکه نه؟

= الصدقات الواجبة (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۷۹ ، ط. س. ج۲ ص ۳۳۹). ظفیر

[1]. ولوتکرر فطره ولم یکفر للاول یکفیه واحدة ولوفی رمضانین عند محمد رحمه الله وعلیه الاعتماد دبزازیه مجتبی وغیرهما واختار بعضهم للفتوی ان الفطر بغیر الجماع تداخل والالا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب ما یفسد الصوم ج۲ ص ۱۵۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۱۳). ظفیر

[2]. وګورئ ردالمحتار باب الکفارة ج۲ ص ۷۹۹ – ۸۰۰ ، ج۲ ص ۴۷۲. ظفیر

جواب: په روژه کی دتکلیف دوجه دادرست نه دی چی روژه پریږدی او داطعام مساکین طرف ته رجوع وکړی ځکه چی په دی کی د: ومن لم یستطع قید (۱) دی چی حاصل یی دا دی چی په ده کی طاقت دروژی نه وی یعنی دیو لا علاجه مرض په وجه یادشیخ فانی کیدو په وجه، دغه وخت بیا اطعام درست دی. فان عجز عن الصوم لمرض لا یرجی بره او کبر یطعم ستین مسکینًا الخ (۲). بیاچی ددوومیاشتو روژو څخه عاجزه دی، یاشدید مریض وی لاعلاجه نوبیا شپیته مسکینانو ته اطعام ضروری دی، ددی دوه صورتونه دی چی یا هریو مسکین ته نیم صاع غنم یعنی داتیا تولوڅخه پاو کم دوه سیره غنم یادهغه قیمت هریو مسکین ته ورکړی اویا شپیته مسکینان دوه وخته په ماړه نس موړول، نودری پاوه اوړه روزانه یو غریب ته چی تردوو میاشتو پوری ورکوی ددې څخه کفاره نه اداء کیږی بلکی پاو کم دوه سیره اوړه یاغنم یا دهغه په قیمت ورکولو سره اداء کیږی په همدی ډول یوطالب العلم ته مجملاً دروپی لیږلو څخه کفاره نه اداء کیږی، بلکی داسی پکښی ولیکه چی (۲۰) شپیته کسانو ته په یوه ورځ کی دوه وخته یا یوسړی ته تردوو میاشتو پوری دوه وخته په ډك نس دکفاری په نیت خوراك ورکول اوپه هغه کی چی څه مصرف سی هغه زماڅخه واخله (۳). فقط

دکفاری دروژو په مینځ کی دقربانی داختر دورځی دراتللو څه حکم دی؟ سوال: (۱۹۱۱) داستفتاء په جواب کی معزز فرمایلی دی چی نن دری څلویښتمه روژه چی دعید الاضحٰی ورځی راغلی دی ایا متواتری روژی ونیسم اوکه داختر روژه ونه نیسم بله داده چی دوی روژی ساقطی سوی وی نودهغه کفاره شپیته روژی دی اوکه نه فی روژه دشپیتو دحساب څخه (۱۲۰) روژې دی؟

جواب: دعید الاضحٰی اودری ورځی دهغه څخه وروسته تردیارلسم تاریخ پوری دروژی نیول پکارنه دی اوددی فاصلی په وجه په متواترو روژو کی فرق راغی لهذاپه کفاره کی چی اولنی روژی ساتلی وی هغه نه شمارل کیږی د(۱۳) تاریخ دذی الحجی څخه وروسته یعنی د(۱۴) تاریخ څخه بیا روژی نیول په کاردی، ددی وخت څخه په شپیته روژی

(۱). ککفارة المظاهر (درمختار) فیعتق اولا فان لم یجد صام شهرین متتابعین فان لم یستطع اطعم ستین لحدیث الاعرابی المعروف فی الکتب السته (ردالمحتارباب مایفسد الصوم مطلب فی الکفارة ج۲ ص ۱۵۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۱۲). ظفیر

(۲). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکفارات ج۲ ص ۸۰۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۷۲. ظفیر

(۳). ولوحکمًا الخ کالفطرة قدر اومصرفا الخ وان اراد الاباحة فغداهم وعشاهم الخ واشبعهم الخ کماجاز لواطعم واحدا ستین یوما الخ (درمختار) قوله کالفطرة قدرًا ای نصف صاع من بر اوصاع من تمر اوشعیر الخ (رد المحتار باب الکفارات ج۲ ص ۸۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۴۷۲). ظفیر

متواتري نیولو سره دیوی روژي کفاره اداء سوه، ستاسی دکفاري دپاره په داسی وخت کی روژي نیول شروع کول په کاردي چي په مینځ کی یي اختر نه راتلي اوس چي کمی روژي دکفاري یي داختر څخه مخکی نیولی دی هغه په کفاره کی نه شمارل کیږي ځکه چي په کفاره کی شپیته روژي متصل نیول ضروري دي البته داکیدي سي چي دیوي روژي کفاره شپیته روژي برابر په یووار ونیول سی، اوددی څخه وروسته څه وقفه وسی، اوچي دکمو ورځو روژه یي نه ده شروع کړي بیادي ددوهمي روژي کفاره شروع کړي اوشپیته روژي دي متواتري ونیسی (١)، اوکه په یووار یوسلو اوشل روژي برابري ونیسی نوداهم صحیح دی، الغرض داچي داضروري دي چي دشپیتو روژو په مینځ کی دکمي ورځي افطار ونه سی، اوکمه روژه په مینځ کی قضاء نه سی (٢). فقط

که دصوم دکفاري طاقت یي نه وي نوڅه وکړي؟ سوال: (١٩٢) دصوم په کفاره کی که ددوو میاشتو دروژو نیولو طاقت یي نه وی نوڅه حکم دی؟

جواب: دروژي په کفاره کی که یي ددوو میاشتو روژو دپرلپسی نیولو طاقت یي نه وی نو شپیته مسکینانو ته دی دوه وخته ډوډی ورکړي یاهر یومسکین ته په شپیتو کی دی دغنمو دفطري په اندازه غنم یادهغه قیمت ورکړي اوداهم جائزدی چي یومسکین ته دشپیتو ورځو دوه وخته دډوډي خوراك ورکړي. (٣) فقط

کفاره واجب ده خوکه دروژي دنیولو طاقت یي نه وو، نوآیا فدیه ورکولی سی؟ سوال: (١٩٣) په یوه سړي باندی درمضان دڅو روژو کفاري دي چي دشیطان دبي لاري کیدو په وجه ورباندی دی، نودهري روژي دپاره پرلپسی ددوو میاشتو روژو نیولو طاقت نسته دوجه دکمزوري دجسم څخه البته مسکینانو ته په کفاره ورکولو ته تیاردی هغه هم ددیوبند دمدرسي طالبانو ته. نودیوي کفاري دپاره څومره روپی ولیږي؟

جواب: دیوي روژي کفاره شپیته مسکینانو ته دوه وخته خوراك ورکول دي یاهریوه مسکین

(١). ولوتکرر فطره ولم یکفر للاول یکفیه واحدة ولوفی رمضانین عندمحمد رحمه الله وعلیه الاعتماد (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٥١ ، ط. س. ج٢ ص ٤١٣) ددی عبارت څخه معلومه سوه چي ددواړو دپاره یوه کفاره ده. والله اعلم. ظفیر

(٢). صام شهرین الخ متتابعین قبل المسیس لیس فیهما رمضان وایام نهی عن صومها وکذا کل صوم شرط فیه التتابع فان افطر بعذر کسفر ونفاس بخلاف الحیض الخ استانف الصوم الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الکفارة ج٢ ص ٧٩٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٧٢). ظفیر

(٣). کفارة الفطر وکفارة الظهار واحدة وهی عتق رقبة مومنة او کافرة فان لم یقدر علی العتق فعلیه صیام شهرین متتابعین وان لم یستطع فعلیه اطعام ستین مسکینا، لکل مسکین صاعا من تمر او شعیر او نصف صاع من حنطة الخ ، (عالمگیری مصری ج١ ص ٢٠١ ، ط. س. ج٢ ص ٢١٥). ظفیر

ته نيم صاع غنم ياپاو كم دوه سيره غنم په انگريزي وزن يا دهغه قيمت وركول دي. نوكه دقيمت څخه كفاره ادا كړي نو ديوي روژي كفاره نژدي (١٩) روپي كيږي. ليكن روژه درمضان يې ونيوله اوماته يې كړه ددي كفاره دومره ده، اوكه درمضان شريف روژي ونه نيسي نوددي ديرش روژو قضاء ديرش روژي لازمي دي اوفديه وركول صحيح نه دي (١).

دفديي حكم هغه وخت دي چې شيخ فاني وي ياداسي مريض وي چې دښه كيدلو هيله يې نه وي نوهغه فديه وركولی، اودچاپه ذمه باندي چې روژي وي اوهغه په ژوند كي نه دي اداء كړي نودمرض الموت په وخت كي دي وصيت وكړي چې زما دمال څخه دروژو فديه اداء كړي نوبيابه فديه دهغه دمال څخه اداء سي. په ژوندانه كي فديه وركول بی غير دشيخ فاني اودلا علاجه مريض څخه دنورو څخه وركول صحيح نه دي (٢). فقط

اتم باب

هغه صورتونه چې دهغه دوجه څخه روژه پريښوول يانه نيول يې صحيح دي اوهغه صورتونه چې فديه وركول پكښي واجب دي

دشيخ فاني اوضعيفه بوډا رعايت: **سوال**: (١٩٤) شيخ فاني ياناجوړي بوډا ضعيف مايوس الحيات ته درمضان شريف په ورځو كي فديه وركول جائزدي اوكه نه؟

جواب: كم سړي چې بوډا ضعيف شيخ فاني نه وي نودهغه څخه فديه وركول صحيح نه دي اوكه هغه فديه وركړي نوبياهم دروژو قضاء دهغه په ذمه لازمه ده، البته كه شيخ فاني وي هغه دهري روژي نيم صاع غنم يادي دهغه قيمت وركړي (٣).

---

(١). وان جامع المكلف ادميا مشتهى في رمضان اداء او جومع وتوارت الحشفة في احد السبيلين انزل او لا او اكل او شرب عذاء الخ او دواء الخ عمداً الخ قضى في الصور كلها وكفر الخ ككفارة المظاهر (درمختار) قوله وان جامع الخ شروع في القسم الثالث وهو ما يوجب القضاء والكفارة ووجوبها مقيد بما ياتي من كونه عمداً لا مكرها ولم يطرأ مبيح للفطر كحيض ومرض بغير صنعه، وبما إذا نوى ليلا. قوله: ككفارة المظاهر أي مثلها في الترتيب فيعتق أولا، فإن لم يجد صام شهرين متتابعين، فإن لم يستطع أطعم ستين مسكينا (ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج٢ ص ١٤٧ وص ١٥٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩ و٤١٣) اطعم ستين مسكين الخ كالفطرة قدرا ومصرفا اوقيمة ذالك من غير المنصوص (درمختار) كالفطرة قدرا اى نصف صاع من بر اوصاع من تمر اوشعير الخ (ردالمحتار باب الكفارة ج٢ ص ٨٠١ وص ٨٠٣ ، ط. س. ج٢ ص ٤٧٢) چې هريو مسكين ته پاو كم دوه سيره دغنمو دحساب شپيتو مسكينانو ته چې دا دوه منه اوپنځه ويشت سيره كيږي چې اوس وخت دبازار په نرخ ٢٠ روپي ديوه من قيمت كيږي. مفتي صاحب ﷫ دخپلي زماني اودخپل وخت قيمت ليكلي دي په هر حال نرخونه وخت په وخت بدليږي. ظفير

(٢). فإن ماتوا فيه أي في ذلك العذر فلا تجب عليهم الوصية بالفدية لعدم إدراكهم عدة من أيام أخر ولو ماتوا بعد زوال العذر وجبت الوصية ﷬ وفدى) لزوما عنه أي عن الميت وليه ﷬ (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في العوارض المبيحة ج٢ ص ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٤). ظفير　　　[باقی]

دحاملی ښځی درضاعت موده نه ده پوره سوی چی بیاحمل وسو، نوڅه وکړی؟ سوال:
(۱۹۵) یوی حاملی ښځی داندیښنی په وجه حمل نقصان کی اودروژو دنیولو څخه محرومه سوه اودوضع حمل څخه وروسته درضاعت په وجه معذوره سوه اودرضاعت موده پوره سوی هم نه وه چی حمل بیاپه دی قسم تواتر قائم سو نواوس حامله روژه په څه ډول ونیسی چی دهغه تواتر دحمل قائم نه وی په دی وخت کی دتیرو کلونو روژی ونیسی اوکه کفاره اداء کړی؟
جواب: که دحمل په حالت کی په دی کی دروژی دنیولو طاقت نه وی یادماشوم دطرف څخه اندیښنه وی نوترڅو پوری چی ددی تواتر دحمل منقطع سی نوپه دی وخت کی دی قضاء راوړی (۱). فقط
دساه لنډی دوجه څخه یی روژه ونه سوه نیولی اواوس هم مریض دی نوڅه وکړی؟ سوال:
(۱۹۶) زید په رمضان کی دټوخی اودساه لنډی په تکلیف اخته سوه، یوه روژه یی ونیوله اوبیایی ونه سوی نیولی ځکه چی همدغه مرض اوس هم دی که زید مذکور (۲۰) شپیتو مسکینانو ته خوراك ورکړی نودرمضان په روژو کی معافی کیدی سی؟
جواب: پرزید مریض په مرض مذکوره باندی دروژو قضا لازمی ده اوفدیه ورکول کافی نه دی یعنی ددی قضاء ساقطه نه ده بلکی په کمه زمانه کی چی نه وی مریض هغه وخت دی قضایی راوړی، اودیوی روژی فدیه دی یومسکین ته دوه وخته ډوډی ورکړی یادی دصدقه فطر غله یا دهغه قیمت ورکړی مګر دافدیه دشیخ فانی په حق کی صحیح ده، اوپه نورو مریضانو کی دروژی قضایی راوړل لازم دی په درمختار کی دی: وقضوا لزومًا ما قدروا بلا فدیة (۲). فقط
دمرض دسختیا دوجه څخه روژه نسی نیولی اوپکښی مړسو، نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۹۷) زید دمریضتیا دسختی دوجه څخه درمضان دروژو نیولو څخه عاجزه سو اوهغه په همدی حالت دناجوړی کی مړسو، دمړ کیدو په وخت یی وصیت وکی چی ددی رمضان فدیه دی ورکول سی، نوپه دی صورت کی آیا فدیه دی ورکړل سی اوکه نه؟

---

(۱). وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی وجوبا الخ کالفطرة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی ی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۲۳ - ۱۲۴ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۷). ظفیر
(۱). لمسافر سفرا شرعیا اوحامل اومرضع اما کانت اوظئرا علی الظاهر خافت بغلبة الظن علی نفسها او ولدها الخ وقضوا لزوما ما قدروا بلا فدیة (درمختار) ای من تقدم حتی الحامل والمرضع وغلب الذکورفاتی بضمیرهم (ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۵۹ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۱ و۴۲۲). ظفیر
(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج ص ۱۲۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۳. ظفیر

جواب: ددی ورځو فدیه ورکول واجب نه دی. کذا فی الدرالمختار (١).

دکمو عذرونو په وجه روژه ماتولی سی؟ سوال: (١٩٨) انسان دکمو عذرونو په وجه بلا کفاره روژه ماتولی سی؟

جواب: مرض، سفر وغیره اودمرض دزیاتیدو او دداسی نورو عذرونو په وجه روژه ماتولی سی، اوکفاره نه باندی راځی، اوبلا عذره درمضان دروژی ماتول موجب دکفاری دی، خوپه وجوب دکفاری کی داشرط دی کم چی په عبارت مذکوره: انما یکفر الخ، کی ذکر سوی دی (٢).

دمسافری روژو په بدله کی فدیه ورکړه اوقضاء یی رانه وړه نوځه حکم دی؟ سوال: (١٩٩) مسافر په سفر کی څو ورځی نه وی تیری کړی، اوفدیه یی ورکړه، نوکه ددغو ورځو قضا وکړی نوځه ګناه خوبه په ده باندی نه وی؟

جواب: ددغو ورځو وروسته قضاء راوړل ضروری دی اوفدیه کافی نه ده ځکه چی دآیت شریف: فمن کان منکم مریضًا اوعلی سفر فعدة من ایام اخر (٣) څخه ثابت دی.

ددرد دوجه څخه یی افطار وکی نوځه حکم دی؟ سوال: (٢٠٠) درمضان دروژی په حالت کی حاملی ښځی ته دبچی دزیږیدو درد پیداسو تنده باندی غالبه سوه اودمازیګر سره نژدی یی وضع دحمل وسوه، نوپه دی صورت کی په ښځی باندی کفاره واجب ده اوکه نه صرف قضا به راوړی؟

جواب: په دی صورت کی صرف قضاء ددی روژی لازم ده اوکفاره واجب نه ده. ثم انما یکفر ان نوی لیلا ولم یکن مکرهًا ولم یطر مسقط کمرض وحیض الخ، درمختار (٤). او دا ښکاره ده چی نفاس دحیض پشان دی په مسقط صوم کی. فقط

دشیدو ورکولو والا ښځه روژه ونیسی او که نه؟ سوال : (٢٠١) کمه ښځه چی ماشوم لره

---

(١). فان ماتوا فیه ای فی ذالك العذر فلاتجب علیهم الوصیة الفدیة لعدم ادراکهم عدة من ایام اخر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٣ و٤٢٧). ظفیر

(٢). ومنها السفر الذي يبيح الفطر ﴿ ومنها المريض بالمرض الذي اذا خاف علی نفسه التلف او ذهاب عضو يفطر بالاجماع وان خاف زيادة العلة وامتداده فكذلك عندنا ﴿ ومنها حبل المرأة وارضاعها ﴿ ومنها الحيض والنفاس ﴿ ومنها العطش والجوع كذلك اذا خيف منها الهلاك او نقصان العقل ﴿ ومنها كبر السن فالشيخ الفاني الذي لا يقدر على الصيام يفطر ويطعم لكل يوم مسكينا (عالمگیری مصری کتاب الصوم باب خامس ج١ ص ١٩٣ – ١٩٤ ، ماجدية ج١ ص ٢٠٢ و٢٠٧). ظفیر

(٣). سورة البقرة رکوع ٢٣. ظفیر

(٤). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج١ ص ١٥٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤١٣. ظفیر

شيدی وركوی هغې ته روژی نيول په كاردی اوكه نه چی ښځه كمزوری وی؟

جواب: كه دماشوم دخوا څخه يادداغی ښځی دخوا څخه انديښنه وی چی ښځه دروژی دنيولو دامله څخه هلاكيږی ياچی دی ماشوم ته شيدی ورنه كړی نوماشوم هلاك كيږی نوپه دی صورت كی دی ښځه روژه نه نيسی او وروسته دی قضايی راوړی. كمافی الدر المختار اوحامل اوموضع خافت بغلبة الظن علی نفسها اوولدها الخ الفطر الخ [1]. فقط

روژی قضا سوی خوصحت كلی يی ونه سو نوڅه وكړی؟ **سوال**: (۲۰۲/۱) يوسړی وفات سو په ده باندی داوو ورځو لمونځونه دمرض دوجه څخه پاته سول اوددوو مياشتو روژی قضاء سوی، دمرض څخه دپوره صحت دنه راتلو دوجه څخه معالج دروژو نيولو څخه منع كی كه دده وارث دده دطرف څخه كفاره اداء كړی نوجائز دی اوكه نه؟

جواب: كه ددی مرض څخه روغ نه سو چی روژی پكښې فوت سوی اوپه همدی مرض كی يی انتقال وسو نوبيا ددغو روژو قضاء لازمه نه ده لهذا ددی فديه اداء كول هم لازم نه دی [2] البته دلمونځونو فديه اداء كول يی وارثانو ته په كاردی كه څه هم ميت يی وصيت نه دی كړی خواميد دی چی ان شآء الله كفاره به دلمونځونو سی داوو ورځو لمونځونه (۴۲) قضاء سوی سره دوترو اودهريوه لمونځ فديه دصدقه فطر په شان پاو كم دوه سيره غنم په انګريزی وزن يا دهغه قيمت وركول په كاردی [3] اودروژو فديه كه واجب نه ده ليكن كه ورېی كړی نوڅه حرج پكښې نسته ميت ته يی ثواب رسيږی او ديوی روژی فديه ديوه لمانځه په شان ده.

په سخت مرض كی مبتلا سو اودصحت اميديی نسته نوهغه څه وكړی؟ **سوال**: (۲۰۳/۱) يو سړی دڅوكالو څخه په سخت مرض كی اخته دی چی دامله يی دری كاله متواتری درمضان روژی ونه سوی نيولی اوپه دی كال كی يی هم دروژو دنيولو طاقت نسته اوپه آئنده كی يی هم دصحت اميد نسته اوحالت يی ورځ په ورځ خرابيږی اوس دده خواهش دی چی په خپل ژوند كی مخكی تيری سوی دټولو روژو فديه اداء كړی، نودا ووايا ست چی دافديه ديوی روژی څومره وركول په كاردی؟ اوددی داداء كيفيت څه شی په كاردی

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتارفصل فی العوارض المبيحة ج۲ ص ۱۵۹ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۲. ظفير

(۲). فان ماتوا فيه ای فی ذالك العذر فلاتجب عليهم الوصية بالفدية لعدم ادراكهم عدة من ايام اخر (الدر المختار علی هامش ردالمحتارفصل فی العوارض المبيحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۲۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۳ و۴۲۴). ظفير

(۳). اذا مات الرجل وعليه صلوات فائتة فاوصی بان تعطی كفارة صلواته يعطی لكل صلاة نصف صاع من بر وللوتر نصف صاع .....من ثلث ماله ﷺ وفی فتاوی الحجة وان لم يوص لورثته وتبرع بعض الورثة يجوز ﷺ (عالمگيری مصری باب قضاء الفوائت ج۱ ص ۱۱۷ ، ط. ماجديه ج۱ ص ۱۲۵). ظفير

كه د‌دری كالو فديه په دی ډول اداء كړی چی (۹۰) محتاجانو ته خوراك پوخ وركی دا صحيح دی اوكه نه؟ كم يومحتاج ته يی وركی؟ د‌دوو څخه ترزياتو ورځو فديه اداء كولی سی اوكه نه؟

جواب: دهری روژی په بدله كی نيم صاع غنم يعنی په انگريزی وزن پاو كم دوه سيره يا دی دهغه قيمت محتاج ته وركړی اوكه خوراك وركوی نودوه وخته دی وركړی حسب حيثيت څومره چی خوړلی سی، غرض دادی چی خيټه يی پوره مړه سی، د‌دری كالو فديه كه په يوه ورځ نوی (۹۰) مسكينانو ته دوه وخته ډوډی په ماړه نس وركړی نوفديه يی ادا كيږی اويوه محتاج ته دی په يوه ورځ كی ديوی روژی څخه زياته فديه نه وركوی ([1]). فقط

دمعاش دپاره چی كمه خواری اومحنت كيږی آيا دهغه دپاره درمضان روژی پريښوولی سی؟

سوال: (۲۰۴/) دمرضان روژه چی دفرضيت تاكيد يی په قرآن كريم اوپه احاديثو مباركو او دامت په اجماع سره سوی دی دكار كولو په عذر لكه كنبتكاری اونان بای توب او نور سخت كارونه چی دگرمی په موسم كی سړی تږی كوی، اكثره خلگ كارهم كوی او روژه هم نيسی اوځينی مهمل خلگ روژه هم نه نيسی، اوقضاء يی وروسته هم نه راوړی، نوپه دی عذرونو سره دروژی دپريښوولو څه حكم دی؟

جواب: په دی عذرونو سره دروژی پريښوول اوقضاء كول يی درست اوصحيح كارنه دی، بلكی دالازم دی چی په رمضان المبارك كی داسی شاقه كارونه ونه كړی چی خبره دروژی قضاء كيدو ته ورسيږی. قال فی الدرالمختار لا يجوز ان يعمل عملاً يصل به الی الضعف فيخبر نصف النهار ويستريح الباقی، فان قال لايكفينی كذب باقصر ايام الشتاء فان اجهد الحر نفسه بالعمل حتٰی مرض فافطر ففی كفارته قولان الخ ([2]). فقط

([1]). فإن عجز عن الصوم لمرض لا يرجى برؤه أو كبر أطعم أي ملك ستين مسكينا ولو حكما، ولا يجزئ غير المراهق كالفطرة قدرا ومصرفا ای نصف صاع من بر او ساعا من تمر او شعير او دقيق أو قيمة ذلك من غير المنصوص وان اراد الاباحة فغداهم وعشاهم او غداهم واعطاهم قيمة العشاء او عكسه ؒ واشبعهم الخ كما جاز لو اطعم واحدا ستين يوما لتجدد الحاجة ولو اباحه كل الطعام في يوم واحد دفعة اجزاه عن يوم ذلك فقط الخ (الدرالمختارعلی هامش رد المحتار باب الكفارات ج۲ ص۸۰۱ – ۸۰۲ – ۸۰۳ ، ط. س. ج۲ ص۴۷۲). ظفير

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصوم وما لايفسد ۵ ج۲ ص ۱۵۷، والذي ينبغي في مسألة المحترف حيث كان الظاهر أن ما مر من تفقهات المشايخ لا من منقول المذهب أن يقال: إذا كان عنده ما يكفيه وعياله لا يحل له الفطر، لانه يحرم عليه السؤال من الناس فالفطر أولی، وإلا فله العمل بقدر ما يكفيه، ولو أداه إلی الفطر يحل له إذا لم يمكنه العمل في غير ذلك مما لا يؤديه إلی الفطر (ردالمحتار باب ايضا) قوله قولان قال الشرنبلالی صورة صائم اتعب نفسه فی عمل حتٰی اجهد العطش فافطر لزمة الكفارة وقيل لا وبه افتی

اتیا کلن بوډا کم چی دروژو دنیولو طاقت نه لري څه به کوي؟ سوال: (۲۰۵) یوسړی دی چی داتیا کالو څخه یی عمر زیات دی دلمانځه اودروژی پابینده دی خوپه اوس وخت کی یی دروژی دنیولو وس نسته، نوهغه روژی خوری اوفدیه یی ورکوی نوڅومره فدیه ورکړی؟ اوکه چیری شیخ فانی روژی وخوری او دفدیی ورکولو سامان ورسره نه وی نو څه به کوی؟

جواب: ذکرسوی سړی چی دروژی نیولو څخه عاجزه دی اوفدیه ورکوی نودیوی روژی فدیه دفطرانی په اندازه ده که چیری دفدیی ورکولو وس یی نه وی نودا فرض دده په ذمه دی چی کله یی طاقت پیداسو نوهغه وخت به فدیه اداء کوی اویابه دوفات څخه مخکی وصیت وکړی، یعنی که په ژوند کی یی فدیه ورنه کړه نودمرګ په وخت کی به وصیت وکړی چی زما دمیراث څخه به دروژو فدیه اداء کوی ([1]). فقط

داسی تندرست چی دروژی نیولو قدرت پکښی نه وی نوڅه به کوی؟ سوال: (۲۰۲) یوسړی دی چی ورته ګوری نوښه ځوان اوتندرسته معلومیږی اوهیڅ قسم ظاهری ناروغی پکښی نه ښکاری، مګر ډیر کمزوری دی اودرمضان شریف روژی نه سی نیولی دروژو نیولو سره نهایت کمزوری کیږی نوکه چیری داروژی ترك کړی نوګنهګار به سی اوکه نه؟

جواب: مسئله داده چی شیخ فانی ته روژی نه نیول اوفدیه ورکول درست اوصحیح دی اودشیخ فانی معنٰی داده چی قوت یی ختم سوی وی او روژی نیسی نیولی نو که چیری دغه سړی خلقةً داسی کمزوری اوضعیف وی چی هیڅ قسم روژه نسی نیولی نودده دپاره درست اوصحیح ده چی روژه ونه نیسی اوفدیه ورکړی، په درمختار کی دی. وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی وجوبا الخ. اوپه شامی کی دی. وللشیخ الفانی الخ ای الذی فنیت قوته اواشرف علی الفناء الخ ([2]). فقط

البقالی وظاهره وهو الذی فی الشرنبلالیة عن المنتقٰی ترجیح وجوب الکفارة (ردالمحتار باب ایضا ج۲ ص ۱۸ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۰). ظفیر

([1]). وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی وجوبًا ولوفی اول الشهر وبلا تعدد فقیر کالفطرة ولو موسرا والا فیستغفر الله هذا اذاکان الصوم اصلا بنفسه الخ ومتٰی قدر قضٰی (درمختار) وقوله ویفدی وجوبا، لان عذره لیس بعرضي للزوال حتی یصیر إلی القضاء فوجبت الفدیة. نهر. ثم عبارة الکنز: وهو یفدي، إشارة إلی أنه لیس علی غیره الفداء، لان نحو المرض والسفر في عرضة الزوال فیجب القضاء، وعند العجز بالموت تجب الوصیة بالفدیة (ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۲۳ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۷). ظفیر

([2]). وګوری ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۲۳ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۲، خوکه داسی نه وی بلکی په عارضی توګه دمرض په وجه داسی وی نودافطار اجازه ده اوقضاء دجوړیدو څخه وروسته واجب ده. اومریض خاف الزیادة لمرضه اوصحیح خاف المرض الخ الفطر یوم العذر الخ وقضوا لزومًا ما =

یوبوډا کمزوری دی مګر روژه نیولی سی نودده دپاره څه حکم دی؟ سوال: (۷\۲۰۷) زید یو داسی بوډا سړی دی چی دده هوش حواس اوجسمانی ټولی قواوی درستی دی زید درمضان شریف (۲۲) روژی نیولی دی. د (۲۷) روژی دنیت کولو اوددوو۲ دروو۳ ساعتو تیریدلو څخه وروسته په اتفاقی توګه بکرراغلی، زید بکرته دخپلی کمزوری څخه شکایت وکی، په دی صورت حال کی چی هیڅ قسم سوچ په مخکی نه وو بکر په دی خبره زور، راوړی چی ستادپاره دروژو نیول جائزنه دی، دبکر په خبره زید روژه ماته کړه، نوآیاپه زید باندی کفاره واجب ده؟

جواب: دسوال څخه معلومیږی چی زید شیخ فانی نه دی، دکم دپاره چی دروژی نه نیول اوفدیه ورکول درست وی لهذا کم سړی چی ده ته دروژی دنه نیولو حکم ورکړی دی هغه سخته غلطی اوخطاء کړیده اودده داویل چی ستا دپاره دروژی نیول جائز نه دی دادده دناپوهی دلیل دی، ځکه چی که شیخ فانی یې هم ونیسی نوناجائزه نه ده، دپای درجه به داوی چی شیخ فانی ته یې ماتول درست وی خوزید شیخ فانی نه دی چی دده دپاره روژه نه نیول درست اوصحیح سی، په درمختار کی دی: وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی الخ. اوپه شامی کی یې لیکلی دی: وللشیخ الفانی الذی فنیت قوته او اشرف علی الفناء ولذا عرفوه بانه الذی کل یوم فی نقص الی ان یموت الخ ([1]) ددی څخه معلومه سوه چی په زید باندی دشیخ فانی تعریف نه صادقیږی نوپه زید باندی په دی صورت کی کفاره واجب ده اوبکر ګنهګار سویدی چاچی په ده باندی روژه ماته کړه دی دی توبه وکاړی اوپه ائنده کی دی چاته په ناپوهی سره داسی حکم نه ورکوی. فقط

دساه ورکولو په حالت کی روژه نیول: **سوال**: (۸\۲۰۸) که چیری یوسړی دنزع په حالت کی وی چی ساه یې وزی نوپه دی حالت کی روژه ماته کړی اوشربت ورکړی اوکه نه؟

جواب: په داسی وخت کی روژه ماتول اوشربت ورکول په کاردی .

دشیخ فانی تعریف: **سوال**: (۱۱\۲۰۸) شیخ فانی په کم عمر کی وی؟

دکمزوری په وجه چی روژه نه سی نیولی نوڅه وکړی؟ سوال: (۱۲\۲۰۹) په رمضان شریف کی چی دکمزورتیا په وجه په تکلیف سره روژه نیسی، نودتیرو کلونو دروژی دطاقت نه

= قدروا بلا فدیة وبلا ولاء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة) بلکه دشیخ فانی لپاره هم همدا حکم دی چی کله دروژو نیولو طاقت یې پیدا کی بیابه قضاء راوړی. دشیخ فانی حکم وروسته مذکوردی. ومتی قدر قضٰی لان استمرار العجز شرط الخلیفة (ردالمحتار) قوله متٰی قدر ای الفانی الذی افطر وفدی (رد المحتار فصل العوارض المبیحة ج۲ ص ۱۲۴). ظفیر

([1]). ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۲۳ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۲. ظفیر

لرلو فدیه ورکولی سی اوکه نه؟ اوکه نیول یی وغواړی نوپه تدریج سره به یی نیسی اوکه نه په متواتره توګه؟

جواب: ١\ : شیخ فانی چی په دومره اندازه بوډا وی چی په ده کی بالکل قوت نه وی پاته اوقریب الموت وی، اودعمر هیڅ تحدید نسته دار مدار په قوت اوپه عدم قوت باندی دی ([1]).

٢\ : ترکم وخت پوری چی روژی نیولی سی ودی نیسی، که څه هم په تکلیف سره روژی نیسی، اودروژو په قضا راوړلو کی متواتر نیولو ته ضرورت نسته، متفرقی دی ونیسی فدیه ورکول دهغه وخته پوری کافی نه دی ترڅو پوری چی دروژی نیولو طاقت بالکل ختم سوی نه وی اوپه هیڅ طریقه روژی نه سی نیولی ([2]). فقط

درمضان المبارک دمیاشتی فدیه: **سوال**: (٢١٠\) دیوسړی درمضان المبارك دمیاشتی دروژی فدیه په څومره اندازه ده، دمیزان اودفارسی ویونکو ته که چیری فدیه ورکړی نوپه دی کی به ثواب وی اوکه نه؟

جواب: درمضان المبارك دیوی میاشتی فدیه داتیا په وزن **٥٢** نیم سیره غنم کیږی، دیوی روژی فدیه پاوکم دوه سیره ده داتیا تولو په وزن سره، څومره روژه چی یی خوړلی وی هغه به سره جمع کړی اوفی روژه دی فدیه پاوکم دوه سیره داتیا تولو په وزن سره ورکړی، دمیزان اودفارسی ویونکو ته په فدیه ورکولو کی ضرور ثواب دی مګر دحدیثو ویونکو ته په ورکولو کی زیات ثواب دی ([3]). فقط

دروژی په حالت کی چی دسختی تندی اودلوږی څخه مړسی مګر روژه ماته نه کړی نوپه ده دی جنازي وسی اوکه نه؟ **سوال**: (٢١١\) یوسړی چی دروژی په حالت کی دسختی تندی اودلوږی څخه مړسوی وی، ده ته داویل سوی وی چی په دی حالت کی شریعت دافطار اجازه ورکړیده لیکن ده ونه منله اووفات سوو پرده باندی دجنازی دلمانځه دجواز او دعدم جواز جواب دکتابونو دحوالی سره یوځای ولیکی؟

جواب: په دی صورت کی که چیری دروژی په حالت کی دغه سړی وفات سی نوماجوردی (یعنی اجر اوثواب به ورکول کیږی) اوګنهګار به نه وی، نوپه ده باندی دجنازی دلمانځه

([1]). وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی وجوبا الخ (درمختار) قوله العاجز عن الصوم ای عجزا مستمرا کما یاتی اما لولم یقدر علیه لشدة الحر کان له ان یفطر ویقضیه فی الشتاء فتح (ردالمحتار ج٢ ص ١٢٣ کتاب الصوم). ظفیر

([2]). ایضا ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٧. ظفیر

([3]). وفی سبیل الله وهومنقطع الغزاة وقیل الحاج وقیل طلبة العلم وفسره فی البدائع بجمیع القرب الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٣ ، ط. س. ج٢ ص ٣٤٣). ظفیر

په جواز کی هیڅ شك اوشبهه نسته (۱). فقط

په سفرکی روژه نیول څنګه دی؟ سوال: (۲۱۲\) لکه څنګه چی په لمانځه کی قصر وی نو دغسی روژه هم ده اوکه نه؟ یعنی که چیری په سفر کی پوره لمونځ وکړی نوګنهګار به وی ځکه چی دنعمت ناشکری ده، نوکه چیری روژه ونیسی نوآیا په دی وخت کی به ګنهګار نسی؟ ځکه چی دادنعمت ناشکری ده، اوکه نه؟ دروژی په متعلق څه حکم دی؟ که چیری په سفرکی روژه ونیسی نوثواب به وی اوکه نه؟

جواب: دروژی دپاره په سفر کی داحکم دی چی وروسته به دهغو روژو قضاء راوړی چی په سفر کی یی نه دی نیولی. فمن کان منکم مریضًا اوعلی سفر فعدة من ایام اخر (۲). او دلمانځه دپاره په حدیث پاك کی داحکم راغلی دی چی دا اسانتیا قبوله کړی، لهذا امام ابوحنیفه رحمه الله دا امر دوجوب دپاره اخیستی دی ځکه نوقصر کول یی په لمانځه کی ضروری فرمایلی دی. اودروژی دپاره دنص څخه اختیار ثابت سوی دی، که خوښه یی وی نوروژه دی ونیسی اوکه خوښه یی وی بیا دی قضاء راوړی که چیری سهولت په سفر کی وی اوپه روژه نیولوکی کمه سختی اومشکلات نه وی نوروژه نیول ښه دی لکه څنګه چی الله جل جلاله فرمایلی دی: وان تصوموا خیرا لکم (۳). په درمختار کی دی: ویندب للمسافر الصوم لایة وان تصوموا خیرلکم والخیر بمعنٰی البر لا افعل تفضیل ان لم یضره فان شق علیه اوعلی رفیقه فالفطر افضل لموافقة الجماعة الخ (۴). نومعلومه سوه چی په سفرکی دعدم مشقت په حالت کی دروژی نیولو فضیلت اوښه والی پخپله الله جل جلاله فرمایلی دی اوپه لمانځه کی قصرنه کول پیغمبر صلی الله علیه وسلم دنعمت ناشکری فرمایلی ده چی دا هم دالله جل جلاله حکم دی. فقط

دیوی ورځی په سفرکی دروژی افطار درست دی اوکه نه؟ سوال: (۲۱۳\) دیوی ورځی په سفر کی هم روژه قضاء کیدی سی اوکه نه ددری ورځو په سفر کی روژه قضاء کیږی اوپه کمو ورځو کی روژی نه قضاء کیږی؟

جواب: دری ورځی سفر دروژی دافطار کولو دپاره درست او صحیح موجب دی ، دمسافر

---

(۱). په ردالمحتار فصل فی العوارض ج۲ ص ۱۵۸ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۱ کی دی: ویوجر لوصبر ومثله سائر حقوق الله تعالی کافساد صوم وصلوة الخ. فقط. ظفیر

(۲). سورة البقرة : رکوع ۲۲. ظفیر

(۳). سورة البقره : رکوع ۲۳. ظفیر

(۴). الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة کتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۳. ظفیر

دپاره، ددی څخه په کمه موده دسفرکی دروژی افطار جائزنه دی لکه څنګه چی ددرو ورځو څخه په کم سفر کی دلمانځه قصر درست اوصحیح نه دی په درمختارکی دی. لمسافر سفرًا شرعيًا ولو بمعصية (١).

دروژی په وجه چی مړسی اوافطار ونه کړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (٢١٤/١) یوسړی درمضان په روژه کی مضطر سو لیکن روژه یی ماته نه کړه او دروژی په حالت کی وفات سو نوپه دی حالت کی دده دپاره څه حکم دی؟

جواب: په شامی کی دی چی که چیری روژه دار روژی ماتولو ته مضطر سی اوروژه ماته نه کړی نودی ماجوردی. ويوجر لوصبر ومثله سائر حقوقه تعالٰی کافساد صوم الخ. ص ١١٥ کتاب الصوم (٢). جلدثانی. فقط

بوډاچی همیشه مریض وی په روژه کی څه وکړی؟ سوال: (٢١٥/١) یوسړی چی دپنځوس پنځه پنځوسو کالو په عمر کی وی اوهمیشه مریض وی او دروژی نیولو طاقت یی نه وی، نودده په باره کی دشریعت شریف څه حکم دی؟

جواب: دداسی مریض دپاره حکم دادی چی کله یې طاقت پیدا اوجوړ سو ددی روژو قضا به راوړی، دروژو نیولو همت چی نه لری افطار ورته نه جائز کوی بلکی په حقیقت کی ددی قضاء وربandی لازمیږی (٣). اودفدیی حکم خاص دشیخ فانی دپاره دی اوپه دی کی دغه مذکور سړی داخل نه دی (٤). فقط

هغه بوډا چی دشکری په مرض باندی اخته دی په رمضان کی څه وکړی؟ سوال: (٢١٦/١) زید ٥٨ کاله عمر لری څوکاله کیږی چی دشکری تکلیف لری کم چی ورځ تروځی کمزوری کیږی اوددی مرض په وجه ډیر زیات تږی کیږی، اوروژه نیول ورته مشکل دی، خصوصًا دسختی ګرمی په موسم کی؟

جواب : دغسی مریض چی دکمزوری اودمریضتیا په وجه روژه نه سی نیولی نو درمضان

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة کتاب الصوم ج٢ ص ١٥٨ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢١). ظفير

(٢). ردالمحتار کتاب الصوم فصل فی العوارض المبیحة ج٢ ص ١٥٨ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢١. ظفير

(٣). او مريض خاف الزيادة لمرضه او صحيح خاف المرض الخ الفطر يوم العذر الخ قضوا لزوما وما قدروا بلا فدية (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم، فصل فی العوارض المبیحة ج٢ ص ١٥٩ - ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢). ظفير

(٤). وللشيخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ويفدی وجوبا (درمختار) للشيخ الفانی ای الذی فنيت قوته اواشرف علی الفناء ولذا عرفوه بانه الذی کل يوم فی نقص الی ان يموت الخ (ردالمحتار ايضا ج٢ ص ١٢٣ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٧). ظفير

المبارك دروژی نه نیول ورته درست دی، لیکن ترڅو پوری چی دصحت طمعه وی، فدیه ورکول کافی نه دی بلکی دصحت څخه وروسته قضاء راوړل وربانډی لازم دی، بیاکه دصحت امید یی نه وی او دمرض ازاله ونه سی نودهغو ورځو به فدیه ورکوی دهری ورځی دروژی فدیه به لکه سرسایه اداء کوی په درمختار کی دی. اومریض خاف الزیادة لمرضه الخ الفطر الخ وقضوا لزومًا ما قدروا بلا فدیة الخ وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی وجوبًا (١) الخ وفی الشامی عن القهستانی عن الکرمانی المریض اذا تحقق الیاس من الصحة فعلیه الفدیة لکل یوم (٢). فقط

په ساه بندی کی چی اخته وی نو په رمضان کی به څه کوی: سوال: (٢١٧) زید سخته نفس تنګی لری دتمباکو نوشی په شان دوایی په بار بار کش کولو سره یې له سینی څخه بلغم خارجیږی نوساه یی سمه وی اوکه دادوایی کش نه کړی نوپه سخت مصیبت کی ګیر وی اوهیڅ دوا ورته مفیده نه ده، اوداتجر به سویده، په ورځ کی څوو څو واره ددوادکش کولو سره دروژی دماتیدو نوبت راځی، مطلب داچی روژه نه سی نیولی زید ځوان دی اوچی دوا خوری نوروغ اوتندرست وی، اوټول کارونه کولی سی، آیا دروژی فدیه ورته کافی ده؟

جواب: دده فدیه ورکول کافی نه دی کم وخت چی نفس تنګی نه وی نوقضاء دی راوړی (کذافی الدر المختار وغیره (٣). فقط

دتردد په حالت کی چی دلمانځه قصر کوی نو په روژه کی به څه کوی؟ سوال: (٢١٨) کم کسان چی دتردد په حالت کی دلمانځه قصرکوی دهغوی دپاره په رمضان شریف کی روژه نیول جائزدی اوکه نه؟

جواب: مسافر چی په یوځای کی ترڅو پوری د (١٥) ورځو دپاته کیدو نیت نه وی کړی اوپه تردد کی وی په لمانځه کی ورته قصر کول په کاردی، اوروژی هم خوړلی سی چی بیابه یی قضاء راوړی مطلب داچی په کم حالت کی په لمانځه کی قصر کول جائزوی، دروژی نه ساتل هم ورته جائز دی. (٤)

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٥٩، وج٢ ص ١٢٣، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢). ظفیر

(٢). ردالمحتار کتاب وفصل ایضا ج٢ ص ١٢٣، ط. س. ج٢ ص ٤٢٧. ظفیر

(٣). اومریض خاف الزیادة لمرضه اوصحیح خاف الضعف بغلبة الظن بامارة اوتجربة الخ الفطر الخ وقضوا لزوما وماقدروا بلا فدیة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٢٩، وج٢ ص ١٢٠، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢). ظفیر

(٤). لمسافر سفراً شرعیا وبمعصیة الخ الفطر الخ وقضوا لزومًا (درمختار) قوله سفرا شرعیا ای مقدراً فی =

دسخت بخار په حالت کی دروژی دافطار اجازه سته اوکه نه؟ سوال: (۲۱۹\) دروژی په حالت کی که چیری سخت بخاروی اودتندی دوجه روژه دار مضطر اوبی قراره سی نوپه داسی حالت کی روژه ماتول جائزدی اوکه نه؟

جواب: که چیری دهلاکید و اودعقل دزوال بیره وی نوپه داسی حالت کی دروژی نه نیول درست اوصحیح دی اوهمدا رکم که چیری په هیڅ طوربی روژه پوره کولی نه سوای او عاجزی وی ورځخه نوهم روژه ماتولی سی (١). فقط

که لوږه شدیده وی نو روژه ماتول جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۲۲۰\) که چیری لوږه شدیده وی نوروژه پریښوول درست دی اوکه نه؟

جواب: درمضان شریف په روژه کی که چیری لوږه په دومره اندازه شدیده وی چی هلاکت اویادعقل دنقصان بیره وی نودروژی نه نیول جائزدی اوپه دی صورت کی دمفتی فتوٰی، دافطار په باره کی جائزده او کم سړی چی داوایی هغه مفتی چی کفاره لازمه نه بولی وریسی لمونځ جائزنه دی هغه خطاء سویدی اودا قول یی غلط دی (٢). فقط

ناجوړی روژه ماتولی سی اوکه نه؟ سوال: (۲۲۱\) نیاز مند دګرمی او سخت بخار په وجه ناجوړی دی لیکن دسستوالی اوداندامونو ددروندوالی دوجه تردی پوری چی ولاړیدلی اوکښېنستلی ورته متعذر دی، نوپه دی حالت کی دروژی نه نیول ورته جائزدی؟

جواب: تاسی چی دکم مرض په حالت کی یاست دیوه پوهه مسلمان ډاکټر په رایه پاندی عمل وکړی، که چیری دغه طبیب دروژی نیول ورته ضررناك وبلل نوروژه به پریږدی اوکه نه نوروژه پریښوول ورته جائزنه دی (٣). فقط

دډیر عمر خاوند چی دفدیی طاقت یی نه وی نوڅه حکم یی دی؟ سوال: (۲۲۲\) یوسړی چی ډیرعمر یی اویا کاله دی اودمرضونو دوجه څخه ډیر کمزوری سوی دی اوس یوکال کیږی چی هیڅ مریضتیا نه لری لیکن دروژو دنیولو طاقت نه لری اودمسکینوالی دوجه

الشرع لقصر الصلوة ونحوه (ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة ج۲ ص ۱۵۸ وج۲ ص ۱۲۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۱). ظفیر

(١). لمسافر الخ اومریض خاف الزیادة لمرضه وصحیح خاف المرض الخ الفطر (درمختار) خاف الزیادة او ابطاء البرء اوفساد عضو اووجع العین (ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة ج۲ ص۱۵۹، ط. س. ج۲ ص۴۲۱). ظ

(٢). قدذکر المصنف منها خمسة وبقی الاکراه وخوف هلاك اونقصان عقل ولوبعطش اوجوع شدید ولسعة حیة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة ج۲ ص ۱۵۸ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۰). ظفیر

(٣). اومریض خاف الزیادة لمرضه اوصحیح خاف المرض الخ بغلبة الظن بامارة اوتجربة وباخبار طبیب حاذق مسلم الخ الفطر الخ وقضوا لزومًا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۵۹ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۲). ظفیر

څخه دفديې ورکولو طاقت هم نه لري. مجبوره دي، نواوس دي سړي ته څه کول په کار دي؟

جواب: شيخ فاني چې دروژې نيولو طاقت نه لري دهغه دپاره فديه ورکول لازم دي او فديه دده پرذمه باندې قرض ده، په هروخت کې چې وي اداء کوي به يې اوکه نه دمرګ په وخت به وصيت وکړي چې دده وارثان دي دده دميراث څخه فديه ورکړي ([1]). فقط

ناجوړي په دغسې مرض کې مړسې نو پرده باندې فديه سته اوکه نه؟ سوال: (۲۲۳\) يوسړی چې درمضان په مياشت کې دروژې نيولو څخه دناجوړي په وجه معذور سي اودرمضان څخه وروسته هم شپږ اووه مياشتې ناروغه وي اووفات سي نودده په ذمه باندې دهغه روژو فديه ورکول لازم دي اوکه نه؟

جواب: دده په ذمه باندې دهغه روژو فديه لازمه ده. کذا في الدرالمختار ([2]). فقط

دروژې په نيولو سره چې مريض کيږي هغه څه وکړي؟ سوال: (۲۲۴\) يوسړی دروژې او دلمانځه پابند دي ليکن درمضان شريف په شروع کيدو ددرې څلورو روژو نيولو وروسته فوراً مريض کيږي غريب اوعيالداره بني آدم دي ددوا اوغيره کولو اومسکينانو ته دډوډې ورکولو طاقت نه لري اوپه حالت دروغوالي کې چې دروژو قضا راوړي نو داسې ناروغ کيږي چې مرګ ته نژدې کيږي، نوپه دې صورت کې دده دپاره څه حکم دي؟

جواب: دداسې مريض دپاره چې دروژ په نيولو قادرنه وي اوهميشه درمضان شريف دروژو په نيولو اويا دهغه په قضاء راوړلو سره دده مرض زياتيږي اوپه هيڅ توګه روژه نه سي نيولی، نوفديه ورکول فقهاؤ جائز ليکلي دي. کذا في الدرالمختار والشامي ([3]). فقط

دبچې مور ياکمزوري ښځه چې دروژو په بدله کې فديه ورکړي نو ددې څه حکم دي؟ سوال: (۲۲۵\) دبچې مور اويا کمزوري ښځه چې روژه ونه نيسي اوفديه ورکړي نوداکار جائز دي اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې فديه ورکول کافي نه دي که چيرې فديه ورکړي اوبيايي صحت

([1]). وللشيخ الفاني العاجز عن الصوم الفطر ويفدی وجوبا (درمختار) وعند العجز بالموت تجب الوصية بالفدية (ردالمحتار فصل فی العوارض المبيحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۲۳ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۷). ظفير

([2]). او مريض حاف الزيادة لمرضه الخ الفطر الخ فان ماتوا فيه ای فی ذالك العذر فلا تجب عليهم الوصية بالفدية لعدم ادراكهم عدة من ايام اخر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبيحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۵۹ – ۱۲۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۲). ظفير

([3]). مثله ما فی القهستانی عن الكرمانی المريض اذا تحقق الياس من الصحة فعليه الفدية لكل يوم عن المرض (ردالمحتار فصل فی العوارض المبيحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۲۳ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۷). ظفير

ښه سی قوت اوطاقت یی پیدا سی نوددی روژو قضاء راوړل ورباندی لازم دی (١). فقط

دمرضتیا په وجه چی روژی قضاء سی دهغه کفاره: **سوال:** (٢٢٦/١) زید په روژه کی سخت ناروغه سو مسلمان ډاکټر دروژو نیولو څخه منع کی، چونکی ده ټوله میاشت روژه نه ده نیولی درمضان دمیاشتی دتیریدلو څخه وروسته هم دزید صحت قابل اطمنان نه دی اوس بیا درمضان شریف میاشت نژدی ده اوسږ کال هم دروژی دنیولو څخه ورته ممانعت دی، دتیرو روژو کفاره په څه ډول اداء کړی، اواوس چی په رمضان کی دڅه مشکل سره مخ سی دهغه په وجه کفاره ورکولی سی؟

جواب: دزید دپاره په دی صورت کی دروژو فدیه ورکول درست نه دی بلکی دصحت انتظار دی وکړی اودصحت په وخت کی دی قضاء راوړی اوکه چیری دروژی فدیه یی ورکړی وی نوهغه یی تبرع اونیکی کیږی اونفلی صدقه سوه، اوچی کله تندرست سو نو دروژو قضاء پرده باندی لازمیږی، البته دژوند تراخره یی که چیری دهغو روژو قضاء رانه وړه نوپه ده باندی دفدیی داداء کولو وصیت دی ترڅو دده دمرګ څخه وروسته دده دمال څخه فدیه اداء کړی په درمختار کی دی: لمسافر الخ اومریض الخ الفطر یوم العذر لا السفر وقضوا لزوما ماقدر وبلافدیة فان ماتوفیه ای فی ذالك العذر فلاتجب علیهم الوصیة بالفدیة ولوماتوا بعد زوال العذر وجبت الوصیة ای بالفدیة بقدر ادراکهم عدة من ایام اخر (٢). فقط

دهغه مریض دپاره چی طبیب ورته ددواء دچښلو حکم کړی وی هغه افطار کولی سی اوکه نه؟ **سوال:** (٢٢٧/١) که چیری ناروغه روژه ونیسی اوصحت اوتندرستی ته یی دنقصان درسیدو اندیښنه وی او دډاکټر دارایه وی چی هغه دی ضرور دوایی وخوری نوهغه افطار کولی سی اوکه نه؟

جواب: دداسی مریض دپاره شرعًا اجازه ده، دمریض غالب ګمان یادمسلمان طبیب خبر ورکول دده دشرعی رخصت دپاره کافی دی په فتاوٰی عالمګیری کی دی: وَمِنْهَا الْـمَرَضُ: الْـمَرِيضُ إِذَا خَافَ عَلَى نَفْسِهِ التَّلَفَ أَوْ ذَهَابَ عُضْوٍ يُفْطِرُ بِالْإِجْمَاعِ ، وَإِنْ خَافَ زِيَادَةَ الْعِلَّةِ وَامْتِدَادَهَا فَكَذَلِكَ عِنْدَنَا ، وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ إِذَا أَفْطَرَ كَذَا فِي الْـمُحِيطِ . ثُمَّ مَعْرِفَةُ ذَلِكَ بِاجْتِهَادِ الْـمَرِيضِ وَالِاجْتِهَادُ

---

(١). والحامل والمرض اذا خافتا علی انفسهما او ولدیهما افطرتا وقضتا دفعا للحرج ولا کفارة علیهما لانه افطار بعذر ولافدیة علیهما (هدایه باب مایوجب القضاء والکفارة فصل ج٢ ص ٢٠۴) . ظفیر

(٢). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١۵٩ - ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ۴٢١ و۴٢٢). ظفیر

غَيْرُ مُجَرَّدِ الْوَهْمِ بَلْ هُوَ غَلَبَةُ ظَنٍّ عَنْ أَمَارَةٍ أَوْ تَجْرِبَةٍ أَوْ بِإِخْبَارِ طَبِيبٍ مُسْلِمٍ غَيْرِ ظَاهِرِ الْفِسْقِ كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ . ([1]) وفي البحر: طلق المرض فشمل ما اذا مرض قبل طلوع الفجر او بعده بعد ما شرع الخ بحر الرآئق ([2]). مطبوعه مصر. افطار دخپلی معنٰی په لحاظ دروژې نه نیولو اویا دشروع کولو څخه وروسته پرماتولو دواړو باندی صادقیږی په دغه مسئله کی چی سوال یی سوی دی په دی صورت کی دافطار دغه دوهمه معنی ده، دمریض که دمرض دزیاتیدو بیره وی نودی افطار کولی سی یعنی دشروع کولو څخه وروسته به بیرته دختمولو اختیار لری دفقهی په کتابونو کی لیکل سوی دی چی دمسافر دپاره دروژې نه نیولو اجازه ده یعنی دده دپاره جائزدی چی دسفر په حالت کی روژه ونه نیسی دامعنی یی نه ده چی دنیولو څخه وروسته یی ماتولی سی، دلته دافطار لفظ په خپله هغه اوله معنا سره دی یعنی نه نیولو ته ویل کیږی، حاصل داچی دافطار لفظ عام دی دنه نیولو اودنیولو څخه وروسته ماتولو ته ویل کیږی. فقط

دشیدی ورکوونکی ښځی دپاره روژه نه نیول درست دی: سوال: (٢٢٨) یوه ښځه کمه چی ددی په غیږ کی ددری میاشتو ماشوم دی اوشیدی یی کمی دی اودپیشلمی خوراك یی نه هضمیږی نوهغه درمضان دروژو خوراك کولی سی اوکه نه؟ اوبیاروژی متواتری نیول ضروری دی اوکه نه؟

جواب: ددی ښځی دپاره دروژو نه نیول درست دی مگر وروسته یی قضاء راوړل ضروری دی کله چی ماشوم غټ سی او ددی شیدی خوړل پریږدی نوپه دغه وخت کی دی قضاء راوړی په هرحال مطلب دادی چی کم وخت چی دی طاقت پیدا کی چی روژی یی نیولی سوای، نو قضاء به یی راوړی اوفدیه نه کافی کیږی ([3]) او دروژو قضاء متواتر راوړل ضروری نه دی جلا جلا یی هم نیولی سی ([4]). فقط

نذر منل سوی روژه چی دناجوړی په بیره ونه نیول سی نوڅه وکړی؟ سوال: (٢٢٩) یوی ښځی نذر ومنی چی که چیری زما اولاد پیدا سو او خداوند کریم ماته اولاد را وبخښی

([1]). عالمگیری مصر کتاب الصوم باب خامس ج١ ص ١٩٣ ، ماجدیه ج٢ ص ٢٠٧. ظفیر
([2]). البحر الرائق ج ٢ ص ٣٠٣ ، ج٢ ص ٢٨١. ظفیر
([3]). ومنها حبل المرأة وارضاعها الحامل والمرضع اذا خافتا على انفسها او ولدها افطرتا وقضتا ولا كفارة عليهما كذافی الخلاصة (عالمگیری مصر کتاب الصوم باب خامس ج١ ص ١٩٣ ، ماجدیه ج٢ ص ٢٠٧). ظفیر
([4]). او مرضع الخ خافت على نفسها اوولدها الفطر الخ وقضوا لزوما الخ بلا ولاء (درمختار) ای موالاة بمعنی المتابعة الخ (ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة ج٢ ص ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢). ظفیر

نونه میاشتی به روژی نیسم اوس دهغې اولاد پیداسو اودنذر روژی نسی نیولی که روژی نیسی نومریضه کیږی نودغه ښځه فدیه ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ددی روژو نیول لازم دی، کله چی ممکن وی ودی نیسی، اوکله چی دنیولو څخه بالکل نا امیده سی نوبیا دی دفدیی وصیت وکړی (١). فقط

یوچا دخپل نذر روژی پوره نه کړی او مړسو نوڅه حکم دی؟ سوال: (١٢٣٠) زید دیوی میاشتی روژی نذر کړی، شل روژی یی پوره سوی وی چی مړسو، اوس چی دالس روژی ورباندی پاته دی ددی اداء کولو څه صورت دی؟

جواب: که زید څه مال پریښی وی او دفدیی اداء کولو وصیت یی وکی نو دداسی روژو فدیه دزید دترکې څخه ورکولی سی اوکه زید وصیت نه وی کړی نوکه تبرعًا دهغه ورثاء دده دروژو فدیه اداء کړی نوښه ده امید دی چی دمتوفی دروژو کفاره به ان شاء الله اداء سی (٢). فقط

په رمضان کی دحیض دورځو دشروع کیدو څخه وروسته روژه افطار کړی اوکه نه؟ سوال: (١٢٣١) په رمضان کی دورځو په وجه کم وخت چی دروژی قضاء معلومه سی دغه وخت دی افطار وکړی اوکه دی ترماښامه پوری روژه پوره کړی، دپوره کولو څخه دامطلب نه دی چی روژه قضا سوی نه ده، اودغه رکم چی دطهر غسل وسی نوپه پاته ورځ کی څه وخوری اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دخوراك څښاك ترماښامه پوری دپرېښوولو ضرورت نسته، اوکه په ورځ کی حیض منقطع سو نو ترماښامه پوری دخوراك څښاك پرېښوول ددې ضروری دی په درمختار کی دی: کمسافر اقام وحائض ونفساء طهرتا قال فی ردالمحتار والاصل فی هذه المسائل ان کل من صار فی اخر النهار بصفة لوکان فی اول النهار علیها للزمه الصوم فعلیه الامساك الخ (٣). فقط

دشیخ فانی دپاره فدیه: **سوال**: (١٢٣٢) زما والده دزکام په عارضه هرکال اخته کیږی او روژه نه سی نیولی نوکه دروژی په ځای غنم ورکړی نودرمضان روژه اداء کیږی اوکه نه؟

---

(١). ولو اخر القضاء حتی صار شیخاً فانیا اوکان النذر بصیام الابد فعجز الخ فله ان یفطر ویطعم لکل یوم مسکینا علی ماتقدم (عالمگیری مصری کتاب الصوم باب سادس ج١ ص ١٩٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٩) . ظفیر

(٢). ولو قال مریض: لله علي أن أصوم شهرا فمات قبل أن یصح لا شئ علیه، وإن صح ولو یوما ولم یصمه لزمه الوصیة بجمیعه علی الصحیح کالصحیح إذا نذر ذلك ومات قبل تمام الشهر لزمه الوصیة بالجمیع بالاجماع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٧٣ - ١٧٤ ، ط. س. ج٢ ص ٤٣٧). ظفیر

(٣). ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج٢ ص ١٤٥ - ١٤٢ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٨. ظفیر

جواب: ترڅو چې دشیخ فاني درجې ته ونه رسیږي نوفدیه ورکول اوغنم وغیره صحیح نه دي، اودروژو قضاء لازمه ده، یعني په رمضان کې که دمرض په وجه روژه نسی نیولی نو وروسته یې قضا ګرځول په کاردي (١).

په مریض باندې قضاء ضروري ده او فدیه کافي نه ده: **سوال**: (٢٣٣) په موږ کې یومریض درمضان شریف دروژو نیولو څخه داوار معذور دی، لهذا داطعام مسکین والا فدیه په کم صورت کې اداء کړي، ځکه چې اول خومسکین په نظر نه راتلی اوکه په جدو جهد کې په تلاش کولو یومسکین هم پیداسی نوهغه غیر روژه داروی لهذا فرض څه ډول اداء سي؟

جواب: دمریض څخه چې کمی روژې فوت سی نودهغه قضاء وروسته نیول ضروري دي، دفدیې څخه کارنه کیږي، که فدیه ورکړي نوقضاء هم لازمیږي ځکه چې فدیه په دې صورت کې کافي نه ده، ځکه چې دفدیې په هکله دڅه ویلو ضرورت نسته (٢). باقي چیرې چې فدیه صحیح وي مثلاً شیخ فاني نوهغه بې نمازه که محتاجه وي هغه ته دې هم فدیه ورکړل سي (٣). فقط

داختلاج دوجه څخه چې په روژه قادرنه وي نوهغه څه وکړي؟ **سوال**: (٢٣٤) عمر داختلاج یادبلې یوې ناجوړې دوجه چې پرهغه باندې هغه روژې مطلقا نه سي برداشت کولی نو هغه څه وکړي؟

جواب: روژه نه معاف کیږي که دکم قوي شرعي عذر په وجه په رمضان کې روژه ونه نیسي نو وروسته قضاء راوړل ورته واجب دي (٤). فقط

دروژو په نیولو سره چې دچامرض زیاتیږي هغه څه وکړي؟ **سوال**: (٢٣٥) یوسړي ددوو میاشتو څخه په خوني بواسیرو اخته دی اوهغه نفلي روژې هم نیسي خوچې کله روژه ونیسي نووینه بهیدل شروع سي ورته، لهذا که روژه ونیسي نونه یې سی نیولی اوکه نه

---

(١). او مریض خاف الزیادة لمرضه اوصحیح خاف المرض الخ الفطر یوم العذر الخ وقضوا لزوما ما قدروا بلا فدیة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض ج٢ ص ١٥٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢). ظفیر

(٢). اومریض خاص الزیادة لمرضه وصحیح خاف المرض الخ الفطر الخ وقضوا لزوما ماقدروا بلافدیة وبلا ولاء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العوارض المبیحة لعدم الصوم ج١ ص ١٥٩ – ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢). ظفیر

(٣). وللیشخ الفاني العاجز عن الصوم الفطر ویفدی وجوبا الخ کالفطرة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٢٣ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٧). ظفیر

(٤). اومریض خاف الزیادة لمرضه الخ الفطر الخ وقضوا لزوما ماقدروا بلا فدیة (الدر المختار علی هامش رد المحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٢٠ – ١٢١ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢ و٤٢٧). ظفیر

یی نیسی نودا تکلیف دی نودی په رمضان شریف کی څه وکړی؟

جواب: داسی مریض ته په رمضان شریف کی دافطار کولو اجازه ده کله چی تندرست سی اودروژی دنیولو قابل سی نوهغه وخت دی قضایی وکړی اوفدیه ورکول پکښی کافی نه دی البته هغه مریض چی مرض یی دائمی دی اودصحت څخه نا امیده وی هغه ته فدیه ورکول جائزدی په شامی کی دی: المریض اذا تحقق الیاس من الصحة فعلیه الفدیة لکل یوم من المرض (١). اوپه درمختار کی دی: اومریض خاف الزیادة لمرضه الخ وقضوا لزوما ما قدروا بلا فدیة الخ (٢). فقط

داتیا کالو بوډا مړسو نو دلمانځه او دروژی فدیه ورکولی سی اوکه نه؟ سوال: (٢٣٦\١) دزید عمر اتیا کالو ته ورسیدی اوجسمانی کمزورتیا او دزوړوالی ضعف پرده باندی دومره طاری دی چی په روژه نیولو یاپه فوت سوی لمونځ قضاء راوړلو باندی قادرنه دی هغه غواړی چی ددی په بدله کی فدیه ورکړی، نودی په خپل ژوند کی فدیه ورکولی سی او که نه؟

جواب: هغه شیخ فانی چی بالکل دروژی نیولو طاقت نه لری په خپل ژوند کی فدیه ورکولی سی (٣). او دلمونځونو فدیه په خپل ژوند کی ورکول صحیح نه دی دلمانځه قضایی کول په کاردی که تر مرګه پوری اداء نه سی نوبیا دمرګ په وخت وصیت کول په کاردی چی زماپه مال کی زما ورثه دی فدیه اداء کړی. هکذا فی کتب الفقه (٤).

دسفر په حالت کی روژه نه سی نیولی اونه یی وروسته قضا راوړه، دی ګنهګار سو اوکه نه؟ او که همیشه په سفر کی وی هغه قضاء څنګه راوړی؟ سوال: (٢٣٧\١) یوسړی په طیاره کی نوکر وو، هغه ځان مسافر وګڼی دوی دری روژی یی په رمضان کی ونه نیولی اونه یی وروسته دهغه قضایی وکړه په دی حالت کی مړسو نودی ګنهګار دی اوکه نه؟ که په ریل

---

(١). ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٢٣ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٧. ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٥٩ – ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢ وص ٤٢٧). ظفیر

(٣). وللشیخ الفانی العاجزعن الصوم الفطر ویفدی وجوبا الخ کالفطرة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج١ ص ١٢٣ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٧). ظفیر

(٤). من تعذر علیه القیام ﷺ صلی قاعدا) ولو مستندا إلی وسادة أو إنسان فإنه یلزمه ذلك علی المختار (کیف شاء ﷺ وإن تعذر القعود ﷺ واماء قاعدا ﷺ وان تعذر القعود ولو حکما اوماً مستلقیا ﷺ وإن تعذر الایماء) برأسه (وکثرت الفوائت ﷺ سقط القضاء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الصلوٰة المریض ، ط. س. ج٢ ص ٩٥) ولو مات وعلیه صلوات فائتة وأوصی بالکفارة یعطی لکل صلاة نصف صاع من بر) کالفطرة (وکذا حکم الوتر (درمختار) بأن کان یقدر علی أدائها ولو بالایماء، فیلزمه الایصاء بها وإلا فلا یلزمه (ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص ٦٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٧٢) . ظفیر

یا جهاز کی نوکر وی هغه همیشه په سفرکی وی نودروژی دقضاء کولو څه صورت دی؟

جواب: هغه مسافر چی ترڅو په یوځای کی دپنځلسو ورځو دقیام نیت ونه کی نوهغه به مسافر وی اومسافرته دسفر په وخت دروژی افطارول صحیح دی مګر دسفر دختمیدو څخه وروسته دغو ورځو قضاء لازمی ده که قضایی ونه کړی اودفدیی دوصیت څخه ماسوا مړسی نوپر ده باندی به مواخذه کیږی (١). فقط

که بلاعذره فدیه ورکړی اوروژه ونه نیسی نوڅه حکم دی؟ سوال: (٢٣٨) یوسړی بی دشرعی عذر څخه درمضان شریف روژی ونه نیولی یوه مسکین ته یی روزانه خوراك ورکی، نو ایا روژه یی ساقطیږی اوکه نه؟

جواب: ددی طریقی څخه دده دذمی څخه نه ساقطیږی اودآیت کریمه: وعلی الذین یطیقونه فدیة طعام مسکین، منسوخ دی یامؤوّل دی (٢). فقط

دبی هوشی په حالت کی روژه دار څه وکړی؟ سوال: (٢٣٩) دبی هوشی په حالت کی روژه خوړلی سی اوکه نه؟ که لږ اوبه یابل څه خولې واچوی نوپر ده باندی یوڅه ګناه سته؟ که وی نوڅه کفاره سته؟ اوبه اچول ښه دی اومرض والا ددی په عوض کی وروسته یوه روژه ادا کړی اوکه نه؟

جواب: دفقهی په کتابونو کی دی چی دبی هوښی په ورځ دروژی قضاء نسته ځکه چی ښکاره داده چی ده په دغه ورځ دروژی نیت کړیدی، ددې څخه معلومیږی چی بیهوښی لرونکی ته روژه ماتول ضروری نه دی جائزدی (٣)، البته که طبیب ددوا ورکولو ضرورت ولیدی نوروژه دی ماته کړی اوپه خوله کی یی اوبه، دوایی وغیره اچول ضروری دی اوکه چادبی هوشه انسان په خوله کی اوبه یادواء واچوله هغه ګنهګارنه دی اوددغه روژی قضاء په مریض باندی لازمه ده اوکفاره واجب نه ده (٤). فقط

(١). لمسافر سفرا شرعیا الخ الفطر یوم العذر الا السفر وقضوا لزوما ما قدروا الخ ولو ماتوا بعد زوال العذر وجبت الوصیة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة ج٢ ص ١٥٨ وص ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢١). ظفیر

(٢). البقرة رکوع ٢٣، فذهب اکثرهم الی ان الاية منسوخة وذالك انهم کانوا فی ابتداء الاسلام مخیرین الخ ثم مسخ المتخیر ونزلت العزیمة الخ (تفسیر مظهری ج٢ ص ١٧٨). ظفیر

(٣). وقضی ایام اغمائه ولوکان الاغماء مستغرقا للشهر لندرة امتداده سوی یوم حدث الاغماء فیه فی لیلة فلا یقضیه الا اذا علم انه لم ینوه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم ج٢ ص ١٢٨ ، ط. س. ج٢ ص ٤٣٢) . ظفیر

(٤). اومریض خاف الزیادة لمرضه اوصحیح خاف المرض اوخادمة خاف الضعف بغلبة الظن بامارة وتجربة او باخبار طبیب حاذق مسلم مستور الحال (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة ج٢ ص ١٥٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢. ظفیر

زميندارته په سخته ګرمی کی دافطار اجازه سته اوکه نه؟ سوال: (١٢٤٠) كه زميندار دسپرلی په وخت په ګرمی کی روژه ونه نیوله او وروسته یی قضاء راوړی نوجائز دی او که نه؟

جواب: په شامی کی دی: وعلى هذا الحصاد اذا لم يقدر عليه مع الصوم ويهلك الزرع بالتاخير لاشك فى جواز الفطر والقضاء الخ ([1]) نوکه زمیندار داسی مجبوره وی نوافطار کول اوبیا قضاء کول صحیح دی.

دضعف دماغ مریض افطار کولی سی اوکه نه؟ سوال: (١٢٤١) زید ددماغ دضعف په مرض اخته دی چی ددغه دوجه څخه په رعشه (ریږدیدلو) ناجوړی کی مبتلاء دی او وخت په وخت یې همدا حالت وی چی ددی په وجه هغه په نهایت دقت سره خپل دملازمت کار انجاموی اوپه روژه نیولو مجبوره دی، دروژی په حالت کی کم کار نسی کولی او دملازمت دکار دانجامولو په حالت کی روژه نسی نیولی، په داسی حالت کی روژه ونیسی اوکه نه کفاره ورکړی اوکه قضاء وکړی؟

جواب: دمریض روژه افطارول هغه وخت جائزدی چی دمرض دزیاتوالی اندیښنه وی او دتکلیف دغځیدو بیره وی په داسی حالت کی ورته افطار کول جائزدی او وروسته قضاء لازمه ده فدیه ورکول ورته جائزنه دی. کمافی الدرالمختار: اومریض خاف الزيادة لمرضه الخ وقضوا لزومًا ماقدروا بلا فدية الخ ([2]). فقط

دمرض دشدت دوجه یی روژه ونه نیوله اومړسو اوس څه وکړی؟ سوال: (١٢٤٢) مریض که دمرض دشدت څخه درمضان روژه ونه نیسی اوانتقال وکړی نودده ورثاء کفاره په څه ډول اداء کړی؟

جواب: که مریض ته دومره مهلت ورنه کول سی اوصحتمند نه سی چی هغه په دغو ورځو کی دروژی قضاء ونیسی نو دده په ذمه ددغی ورځی قضاء لازمه نه ده اودوارثانو په ذمه کفاره هم لازمه نه ده ([3]). فقط

* * *

([1]). ردالمحتار باب مايفسد الصوم تحت فروعه ج٣ ص ١٥٧ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٠. ظفير

([2]). الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل فى العوارض المبيحة ج٢ ص ١٥٩ - ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢). ظفير

([3]). فان ماتوا فيه اى فى ذالك العذر فلا تجب عليهم الوصية بالفدية لعدم ادراكهم عدة من ايام اخر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصوم فصل فى العوارض المبيحة ج٢ ص ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٣ و ٤٢٤). ظفير

نهم باب

متفرقات يعني دروژي مختلف مسائل

<u>دشوال شپږ ورځې مسلسلې ونيسي اوکه متفرقې؟</u> سوال: (٢٤٣/١) په شوال کې شپږې ورځې متصلې روژې نيول مکروه دي اوکه نه شپږ ورځې متفرقې لرل؟

جواب: قال في الدرالمختار وندب تفريق صوم الست من شوال ولا يكره التتابع على المختار (١). يعني مستحب دي متفرقې کول دشپږو ورځو دشوال اوتتابع هم مکروه نه ده على القول المختار. فقط

<u>نفلي روژې په څومره تعداد کې مسلسل نيول ضروري دي؟</u> سوال: (٢٤٤/١) يوعالم فرمايي چې هره نفلي روژه يوه اودوې بايدنه وي ځکه چې ديهودو دروژې سره مشابهت راځي بالخصوص روژه دعاشورا، بايد دمحرم دنهم څخه تر يوولسمه پورې وي نوبناء په دې باندې هرصوم بايد کم ددرې ورځو څخه نه وي ترڅو مشابهت رانسي؟

جواب: دعاشوراء دروژې په باره کې داحکم دی چې تنها روژه نيول دعاشوراء مکروه تنزيهې دي يعني غير اولى دي ددې سره به يوه بله ونيسي نهمه يا يوولسمه، اودشنبې په روژه کې هم فقهاؤ ليکلي دي چې ددې سره دې يوه روژه بله هم ونيسي اودشنبې روژه دې يواځې نه نيسي ديهودو سره دمشابهت دوجه څخه چې هغوی دشنبې روژه تعظيماً نيسي (٢)، باقي دانسته چې نفلي روژه دې يواځې نه نيسي بلکې ددوشنبې او دپنج شنبې ځانته ځانته روژه نيول په حديث شريف کې واردې، اوداهم غلط قول دی چې ددرې روژو څخه کمه ونه نيسي بلکې کمه روژه چې يواځې مکروه ده چې دعاشورا روژه ده ددې سره په يوه بله روژه کراهت مرتفع کيږي، دوې روژې نيول کافي دي چنانچې هغه روايت دعاشورا متعلق چې دغه مولوی صاحب نقل کړيدي په دې کې هم دا لفظ دي: ويصوم التاسع من المحرم ويوم عاشوراء او الحادي عشر (٣).

ددې مطلب هم دادی چې دعاشورا دروژې سره دنهم دمحرم روژه دې ونيول سي اويا ديوولسم دا دي ونيول سي، نومعلومه نه ده چې ده دکم ځای څخه وئيلي ده چې ددرې

---

(١). الدرالمختار على هامش ردالمحتار مطلب في صوم الست من شوال ج٢ ص١٧١ ، ط. س. ج٢ ص ٤٣٥. ظ

(٢). ونفل كغيرهما يعم السنة كصوم عاشوراء مع التاسع (درمختار) ويستحب ان يصوم يوم عاشوراء بصوم يوم قبله اويوم بعده ليكون مخالف لاهل الكتاب الخ وقوله وعاشوراء وحده اى مفردا عن التاسع اوعن الحادى عشر لانه تشبه باليوم قوله وسبت وحده للتشبه باليهود (ردالمحتار كتاب الصوم ج٢ ص١١٣ – ١١٤ ، ج٢ ص ٣٧٥) . ظفير

(٣). ط. س. ج٢ ص ٣٧٥. ظفير

ورځو څخه کمه نفلی روژه نه وی دابالکل غلط دی عموماً یوه روژه نفلی صحیح ده ځکه چی ددوشنبی اودپنجشنبی روژی منفرداً په حدیث پاك کی وارد دی اودجمعی روژه منفردا هم علی الصحیح مستحب ده په درمختار کی دی: والمندوب کایام البیض من کل شهر ویوم الجمعة ولو منفردا اوعرفة ولو لحاج الخ قوله ولو منفرداً صرح به فی النهر وکذا فی البحر فقال ان صومه بانفراده مستحب عند العامة کالاثنین والخمیس (١). فقط

دنابالغه روژه نیول ښه دی اوکه په سبق کی خواری کول؟ سوال: (٢٤٥\) نابالغه ماشومانو ته درمضان المبارك روژی نیول ښه دی اوکه په درسونو کی کوشش کول؟ ځکه چی دروژی نیولو سره هغه کمزوری کیږی اوهغه په تعلیم کی مصروف وی ؟

جواب: په درمختار کی دی: وإن وجب ضرب ابن عشر عليها بيد لا بخشبة لحديث مروا أولادكم بالصلاة وهم أبناء سبع واضربوهم عليها وهم أبناء عشر قلت: والصوم كالصلاة على الصحيح كما في صوم القهستاني معزيا للزاهدي وفي حظر الاختيار أنه يؤمر بالصوم والصلاة وينهى عن شرب الخمر ليألف الخير ويترك الشر الخ (٢).

له دی څخه معلومه سوه چی دنابالغه ماشومانو دروژی په باره کی حکم دلمانځه په شان دی چی داووکالو دعمر څخه دی دلمانځه او دروژی حکم ورته وسی اودلسو کالو په عمرکی دی ووهل سی اولمونځ اوروژه دی ورباندی ونیول سی نوپه کاردی چی په رمضان شریف کی چی په ماشومانو باندی دعلم په تحصیل کی محنت کم وسی (٣) په دی وجه په اسلامی مدارسو کی عموماً په رمضان شریف کی رخصتی ورکوی.

دشوال شپږ ورځی کله شروع کړی؟ سوال: (٢٤٦\) دشوال په میاشت کی چی کمی شپږ روژی نفلی دی دغه داختر دورځی څخه دورپسی ورځی څخه شروع سی اوکه داختر څخه دورپسی ورځی څخه شروع نه سی نوپه باقی میاشت کی یی ونیسی اوکه نه؟

جواب: دشوال شپږ روژی داختر شپږ په نوم مشهوری دی په درمختار کی یی لیکلی دی چی متفرق نیول یی ښه اومستحب دی اوپه پرله پسی توگه نیول یی هم مکروه نه دی. و

---

(١). ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١١٤ ، ط. س. ج٢ ص ٣٧٥. ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلوٰة ج١ ص ٣٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ٣٥٢. ظفیر

(٣). ویؤمر الصبی بالصوم اذا اطاقه ویضرب علیه ابن عشر کالصلاة فی الاصح (درمختار) قوله: یضرب ای بید لا بخشبة ولا یجاوز الثلاث کما قیل فی الصلاة (ردالمحتار کتاب الصوم باب مایفسد الصوم وما لایفسده ج٢ ص ١٤٧ ، ط. س. ج٢ ص ٤٠٩) . ظفیر

ندب تفريق صوم الست من شوال ولا يكره التتابع. (١) الخ. فقط

درجب روژه ثابته ده اوكه نه؟ سوال: (٢٤٧) درجب په ٢٧ دروژی نيول په حديث كی ثابت دی اوكه نه؟ بعض خلگ دی ته هزاره روژه وايي؟

جواب: درجب په اوه ويشتمه روژه نيول چی عوام ورته هزاره روژه وايی اودزرگونو روژو برابر ثواب يی گنی ددی څه اصل نسته. فقط

په شطرنج لوبی كول دروژی ثواب دمنځه وړی: **سوال**: (٢٤٨) يوه واعظ ويلی دی چی څوك په رمضان كی دشطرنج لوبه كوی هغه ته دروژی ثواب پوره نه وركول كيږی اوحال داچی په شطرنج لوبی كول دامام شافعی ﷫ په نزد جائز اودحضرت ابوهريرة ﷛ څخه يی كول ثابت دی داقول يی صحيح دی اوكه نه دی؟

جواب: دذكر سوی واعظ قول صحيح دی په كمه روژه كی چی سړی په شطرنج اوپه نور لهو لعب باندی مشغول وی اودمعصيت ارتكاب كوی نو دروژی ثواب نه وركول كيږی ځكه چی په حديث پاك كی راغلی دی: ومن لم يدع قول الزور والعمل به فليس لله حاجة فی ان يدع طعامه وشرابه. رواه البخاری (٢). وفی حديث اخر كم من صائم ليس له من صيامه الا الظماء وكم من قائم ليس له من قيامه الا السهر، رواه الدارمی (٣). قال الطيبی فان الصائم اذا لم يكن محتسبا اولم يكن مجتنبا من الفواحش من الزور والبهتان والغيبة ونحوها من المناهی فلا حاصل له الا الجوع والعطش الخ (٤). وفی الدر المختار وكره تحريمًا اللعب بالنرد وكذا الشطرنج (٥) وفی الشامی فهو حرام كبيرة عندنا الخ (٦). نوكله چی دفقهی په كتابونو كی تصريح سوی نو دشطرنج كولو په كراهيت اوحرمت كی احنافو ته هيڅ عذر پاته نه دی اودامام شافعی ﷫ دقول څخه (٧) داحنافو حجت اخيستل صحيح نه دی اودحضرت ابوهريرة ﷛ څخه دشطرنج كول ثابت نه دی.

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب في صوم الست من شوال ج٢ ص ١٧١، ط. س. ج٢ ص٤٣٥. ظ

(٢). مشكوٰة باب تنزيه الصوم ص ١٧٦. ظفير

(٣). وګوری مشكوٰة سره دحاشيی باب تنزيه الصوم ص ١٧٧. ظفير

(٤). وګوری مشكوٰة مع حاشيه باب تنزيه الصوم ص ١٧٧. ظفير

(٥). الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة ج٥ ص ٣٤٧، فصل فی البيع. ظفير

(٦). ردالمحتار باب ايضا ج٥ ص ٣٤٧ فصل فی البيع. ظفير

(٧). داقول هم درست نه دی چی امام شافعی ﷫ دشطرنج لوبی ته جائز ويلی دی. حافظ ابن قيم ﷫ دجواز دقول ترديد كړی دی وګوری اعلام الموقعين ج١ ص ١١٥ چی الفاظ يی دادی:

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ فِي اللَّعِبِ بِالشِّطْرَنْجِ : إنَّهُ لَـهْوٌ شَبهُ الْبَاطِلِ ، أَكْرَهُهُ وَلَا يَتَبَيَّنُ لِي تَـحْرِيمُهُ فَقَدْ نَصَّ عَلَىٰ كَرَاهَتِهِ =

دغیر افطاري څخه دافطارکولو ثواب: **سوال**: (۲۴۹) داویل چې دروژې افطار کول دغیر په افطاري باندې باید ونسي ځکه چې ثواب دډوډې خاوند ته رسیږي صحیح دی اوکه نه؟

جواب: داعقیده فاسده ده چې روژه ماتي دبل چاپه افطاري باندي بایدونه سي چې ثواب دډوډې خاوند ته رسیږي. ([1]) فقط

درؤیت هلال خبر چې ۱۲ بجې ورسیږي نوڅه وکړي؟ **سوال**: (۲۵۰) که درؤیت هلال خبر د۱۲ بجو څخه وروسته ورسیږي نوروژه افطار کړي اوکه پوره یې کړي؟

جواب: درؤیت هلال خبر چې په څه وخت په پوخ ډول ورسیږي برابره خبره ده چې که هغه دلمر پریوتو څخه لږ مخکې وي په دې شرط چې معتبره شهادت وي په محض تار وغیره خبرنه وي نودروژې فوراً افطارول په کاردي، اودروژې دنه افطارولو په صورت کې به ګنهګاریږي ([2]). فقط

په شرعي شاهدي باندې دافطار کولو حکم ورکې اوبوه سړي افطار ونه کي نوداځنګه دی؟

سوال: (۲۵۱) مولوی صاحب په شرعي شهادت درؤیت هلال په راتلو داختر حکم ورکې او صرف یوسړي روژه هم ماته نه کړه نوڅه حکم دی؟

جواب: داسړي ګنهګاره دی توبه دې وکاږي ([3]). فقط

روژه په څه شي باندي ماتول ښه دي؟ **سوال**: (۲۵۲) دروژې افطارول په خرما باندي ښه دي اوکه په شیدو باندي؟

جواب: په خرما باندي دروژې ماتول ښه دي ([4]). فقط

= وَتَوَقَّفَ فِي تَحْرِيمِهِ ؛ فَلَا يَجُوزُ أَنْ يُنْسَبَ إِلَيْهِ وَإِلَى مَذْهَبِهِ أَنَّ اللَّعِبَ بِهَا جَائِزٌ وَأَنَّهُ مُبَاحٌ ، فَإِنَّهُ لَمْ يَقُلْ هَذَا وَلَا مَا يَدُلُّ عَلَيْهِ ؛ وَالْحَقُّ أَنْ يُقَالَ : إِنَّهُ كَرِهَهَا ، وَتَوَقَّفَ فِي تَحْرِيمِهَا ، فَأَيْنَ هَذَا مِنْ أَنْ يُقَالَ : إِنَّ مَذْهَبَهُ جَوَازُ اللَّعِبِ بِهَا وَإِبَاحَتُهُ ؟ . ظفیر

([1]). حدیثِ نبوی دی: من فطر فیه صائما کان له مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار وکان له اجره من غیر ان ینتقص من اجره شیئ. مشکوٰة ص ۱۷۴. ظفیر

([2]). ولو کانوا ببلدة لا حاکم فیها صاموا بقول ثقة وافطروا باخبار عدلین مع العلة للضرورة (درمختار) قوله: وافطروا ﷺ عبارة غیره لا باس بان یفطروا والظاهر ان المراد به الوجوب (ردالمحتار کتاب الصوم ج۱ ص ۱۲۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۲). ظفیر

([3]). وافطروا باخبار عدلین مع العلة (درمختار) والظاهر المراد به الوجوب (ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص ۱۲۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۸۲). ظفیر

([4]). عن انس قال کان النبی ﷺ یفطر قبل ان یصلی علی رطبات فان لم تکن رطبات تمیرات فان لم تکن تمیرات حسا حسوات من ماء رواه الترمذی وابوداود (مشکوٰة کتاب الصوم بعد باب رؤیة الهلال ص ۱۷۵). ظفیر

دهندو په شي باندي دروژې ماتول څنګه دي؟ **سوال**: (٢٥٣\) يوهندو مشرك په هره مياشت کې شيدې او واوره اخلي اومسلمانانو ته يې ورکوي په دې باندې دروژې په ماتولو کې څه حرج سته اوکه نه؟

جواب: په دې کې څه حرج نسته. فقط

درنډې اودهندو په روژه ماتي باندې روژه ماتول څنګه دي؟ **سوال**: (٢٥٤\) يوچا درنډۍ په رالیږل سوي شي باندې روژه ماته کړه نوڅه حکم دی؟

٢\. يوچا دهندو دخوا په رالیږل سوي روژه مات روژه ماته کړه نوڅه حکم دی؟

جواب: داخلاف تقوٰی دی دفتوٰی دلاری څخه دعدم علم دحرمت په صورت صحيح دی.([1])

٢\. صحيح دی ([2]). فقط

دنفلي روژو په ورځو کې درمضان دروژې په قضاء راوړلو سره دقضاء او دنفلو دواړو ثواب ورکول کيږي؟ **سوال**: (٢٥٥\) که يوسړی درمضان دروژو قضاء په هغه ورځو کې راوړي چې په هغه کې نفلي روژې هم مستحب اوسنت دي نودنفلي روژو ثواب وسو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې دهغه دقضايي روژه وسوه خودنفلي روژو ثواب يې نه کيږي.

دافطار ثواب: **سوال**: (٢٥٦\) څلورو کسانو دروژه مات دپاره څلور ډوډې راوړي اويوځای يې کښېښودې پنځه، اوو کسانو په دې ډوډې باندې دروژې افطار وکې نوباقي دري ته هم دروژه مات ثواب رسيږي اوکه نه؟

جواب: دې دري واړو ته هم ثواب ورکول کيږي.

داختر په ورځ روژه حرامه ده: **سوال**: (٢٥٧\) داختر په ورځ روژه نيول حرامه ده اوکه نه؟ اوکه چاته اختر معلوم نه وی اوروژه يې ونيوله نوصحيح ده اوکه نه؟ اوکه ذکر سوی سړي بې دشرعي عذر څخه روژه افطار کړه نوقضاء يا کفاره واجبيږي اوکه نه؟

جواب: چاته چې اختر معلوم نه وی اودده سره داختر ثبوت نه وی اوداختر حکم په موجبه طريقه دده په نزد ثابت نه وی نودده په روژه نيولو کې ګناه نه کيږي اودده په حق کې

([1]). سئل الفقيه أبو جعفر عمن اكتسب ماله من أمراء السلطان وجمع المال من أخذ الغرامات المحرمات وغير ذلك هل يحل لمن عرف ذلك أن يأكل من طعامه؟ قال: أحب إلي أن لا يأكل منه ويسعه حكما أن يأكله إن كان ذلك الطعام لم يكن في يد المطعم غصبا أو رشوة اهـ أي إن لم يكن عين الغصب أو الرشوة لانه لم يملكه فهو نفس الحرام فلا يحل له ولا لغيره (ردالمحتار كتاب الزكوٰة باب زكوٰة الغنم مطلب فی التصدق من المال الحرام ج٢ ص ٣٥ ، ط. س. ج٢ ص ٢٩٢). ظفير

([2]). پاکه اوحلاله غذاده په دې کې څه مضائقه نسته. ظفير

حرمت نه وی که څه هم په حقيقت کی دغه روژه نه ده سوی ځکه چی دعيد الفطر ورځ دروژی محل نه دی، اوکه باوجود دعدم علم ددغی ورځی روژه يې ونه نيوله اوافطار يې وکی او وروسته بيا اختر ددی ورځی محقق سو نو ددی روژی قضاء اوکفاره وربانده لازمه نه ده. فقط

دمريض دپاره په دواء باندی دروژی افطارول څنګه دی؟ سوال: (٢٥٨\) که څوك مريض وی په دواء باندی په رمضان کی روژه ماتولی سی اوکه نه؟

جواب: دغه سړی ته په دوا باندی په روژه ماتولو کی څه حرج نسته. فقط

دقضاء دپاره حيله کول مذموم کاردی: سوال: (٢٥٩\) که قصدا دروژی څخه ځان خلاص کړی دسفر يا دمرض وغيره حيله وکړی اوروژه قضاء کړی نوجايز دی اوکه ناجائز؟

جواب: دشرعی مسافر اودمريض افطار کول صحيح دی ([1])، اوحيله کول مذموم کاردی او قبيح دی.

بغير دپيشلمی څخه روژه نيول صحيح دی اوکه نه؟ سوال: (٢٦٠\) بغير دپيشلمی کولو څخه روژه نيول صحيح دی اوکه نه؟

جواب: دپيشلمی خوراك کول دروژی دپاره مستحب دی نوبغير دپيشلمی څخه هم روژه کيږی ([2]). فقط

درمضان شريف څخه مخکی يوه يادوی روژی نيول څنګه دی؟ سوال: (٢٦١\) درمضان دمياشتی دليدلو څخه مخکی يوه يادوی روژی نيول څنګه دی؟

جواب: داسی کول جائزنه دی په حديث پاك کی ددی ممانعت دی چی درمضان دشروع څخه مخکی بايد هيڅ قسم روژه ونه نيول سی په حديث پاك کی دی: صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته ([3]). فقط

دپيشلمی څخه وروسته دخپلی ښځی سره يوځای کيدل جائزدی: سوال: (٢٦٢\) په رمضان کی دپيشلمی کولو څخه وروسته دخپلی ښځی سره يوځای کيدی سی؟ او وروسته بيا دغسل وخت تر کم وخته پوری دی؟

([1]). لمسافرا سفرا شرعيا ولو بمعصية الخ اومريض خاف الزيادة لمرضه الخ الفطر الخ وقضوا لزومًا ماقدروا (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبيحة ج٢ ص ١٥٨ – ١٥٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٢) واشار باللام الى مخير ولكن الصوم افضل ان لم ام لم يضره (ردالمحتار ايضًا). ظفير

([2]). ويستحب السحور وتاخيره (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصوم ج٢ ص ١٥٢ ، ط. س. ج٢ ص ٤١٩) . ظفير

([3]). مشكوة المصابيح، باب رؤية الهلال ص ١٧٤. ظفير

جواب: په رمضان كی دپیشلمی كولو څخه وروسته كه صبح صادق وروسته سی نو دخپلی ښځی سره جماع درسته ده غرض دادی چی دصبح صادق څخه مخكی ځان دجماع څخه فارغ كول په كاردی غسل یی خوښه ده چی دسبا څخه یی وروسته كوی په روژه كی یی څه نقصان نه راځی [١]. چی نن صبح صادق (۴) بجی او۲۳ دقیقی باندی دی، دریلوی په وخت او داپریل تراخره پوری تر شل باندی څلورو پوری صبح صادق كیږی اودرمضان تراخره پوری صبح صادق دڅلورو بجو څخه پر دوو څلورو دقیقو كم باندی وی. فقط (دصبح صادق وخت په هرځای كی یونه وی. ظفیر)

ټول كال روژه نیول څنګه دی؟ سوال: (۲۲۳) په عید الضحٰی اوعید الفطر كی روژه ماتول اوباقی ټول كال یعنی دولس میاشتی روژه نیول یوه هم نه قضاء كول صحیح دی اوكه نه؟

جواب: په ټول كار كی پنځه روژی نیول ممنوع دی [٢]، عید الفطر، عید الضحٰی اودری ورځی دایام تشریق باقی ټول كال روژی نیول صحیح دی لیكن داښه نه ده چی همیشه دی روژه ونیول سی ځكه چی په حدیث پاك دی چی نبی كریم ﷺ روژی هم نیولی او افطار یی هم كوی نوداسی كول دسنتو موافق نه دی. [٣] فقط

دافطار اودماښام دلمانځه حكم وركول څنګه دی اوصحیح وخت یی كم دی؟ سوال: (۲۲۴) دماښام دلمانځه او دروژی دماتولو حكم هغه وخت وركول چی څو مسلمانانوته دلمر په پریوتوكی خبره وی څنګه دی؟ اوددی دواړو صحیح وخت كم دی؟ اوددی دپیژندلو علامې دعلماؤ څخه څه شی دی؟

جواب: داكار په تجربی اوپه مشاهدی باندی موقوف دی اوددی پوهیدونكی په هروخت كی موجود دی، اوصحیح ساعت دی، اودجنتری څخه دلمر په ختلو اولمر لویدو كی هم مرسته اخیستلی سی، نوجنتری دطلوع او غروب چی صحیح وی اوتجربه یی وی دصحیح ساعت دهغه مطابق افطار اودماښام دلمانځه حكم وسی، اوپه اكثره زمانو كی دمشاهدی اودعلاماتو څخه هم معلومیږی.

---

[١]. احل لكم لیلة الصیام الی نساء كم (بقره) والرفث المذكور هو الجماع ولاخلاف بین اهل العلم فیه (احكام القرآن للجصاص ج١ ص ٢٢٧) وكذا لایفطر لوجامع عامداً قبل الفجر ونزع فی الحال عند طلوعه (ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج۲ ص ۱۳۵ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۷). ظفیر

[٢]. والمكروه تحریما كالعیدین وتنزیها كعاشوراء وحدة الخ وصوم دهره (الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الصوم ج۲ ص ۱۱۴ ، ط. س. ج۲ ص ۳۷۵). ظفیر

[٣]. فقال عمرؓ یا رسول الله كیف من یصوم الدهر كله قال لا صام ولا افطر او قال لم یصم ولم یفطر ؒ (مشكوٰة باب صیام التطوع ج ١ ص ١٧٩) . ظفیر

روژه دار په دود څکولو باندې افطار وکي نو روژه وسوه او که نه؟ سوال: (٢٢٥) که چا تږوله ورځ روژه ونیوله او داذان په وخت یې دود وڅکوی اوبې هوښه سو، نودده روژه وسوه او که نه؟

جواب: دده روژه وسوه (١). فقط

دفرضي روژې دقضاء باقي پاته کیدو په صورت نفلي روژې نیول صحیح دي اوکه نه؟ سوال: (٢٢٦) فرضي روژې چې قضا سوي وي دهغه اداء کولو څخه مخکې یې نفلي روژه ونیوله داجائز دي او که نه؟

جواب: جائزدي داروژې به یې نفل سي (٢). فقط

دیخنې په موسم کې په قضایي روژو نیولو سره په ثواب کې کمي راځي اوکه نه؟ سوال: (٢٢٧) کمو خلګو چې درمضان روژې دعذر په سبب قضاء کړې دي، نوهغوی که په یخ موسم کې دهغه قضایي راګرځوي نوپه دي کې خو دثواب څه کمي نه راځي؟

جواب: دیخنې په موسم کې دقضاء روژو په نیولو سره په ثواب کې هیڅ کمي نه راځي

دبې نمازه روژې صحیح کیږي اوکه نه؟ سوال: (٢٢٨) که څوك په رمضان کې روژې نیسي او لمونځ نه کوي نودده روژه صحیح کیږي اوکه نه؟

جواب: روژه یې صحیح کیږي او دلمانځه دنه کولو یې ګناه کیږي او دلمانځه قضا یې په ذمه فرض ده (٣). فقط

درمضان دروژو څخه وروسته کمې روژې ښه دي اوپه لمونځونو کې کم نوافل؟ سوال: (٢٢٩) درمضان دروژو څخه وروسته کمې کمې روژې ښه دي چې زیات ثواب لري او دفرائضو او دسننو څخه وروسته کم نوافل ښه دي اوثواب یې ډیر دی؟

جواب: دصحیح مسلم په حدیث کې دي: افضل الصیام بعد رمضان شهر الله المحرم وافضل الصلوٰة بعد الفریضة صلوٰة اللیل. رواه مسلم (٤). فقط

(یعنې درمضان دروژو څخه وروسته دمحرم دروژې درجه ده، اودفرض ترلمانځه وروسته

---

(١). ددې وجه څخه چې روژه دصبح صادق څخه دلمر لویدو پورې دنیت سره یوځای دخوراك اودڅښاك اودجماع دپرېښوولو نوم دی اوپه دې باندې هغه عمل کړی دی. وشرعا امساك عن المفطرات الاتیة حقیقة اوحکما الخ فی وقت مخصوص او هو الیوم الخ مع النیة المعهودة (درمختار) قوله هو الیوم ای الیوم الشرعی من طلوع الفجر الی الغروب (ردالمحتار کتاب الصوم ج٢ ص ١١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٧١). ظفیر

(٢). ولذا جاز التطوع قبله (قبل قضاء رمضان بخلاف قضاء الصلوٰة) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة ج٢ ص ١٢٠ ، ط. س. ج٢ ص ٧٢٣) . ظفیر

(٣). دواړه جلا جلا فرض دي یو په بل باندې موقوف نه دي. والله اعلم. ظفیر

(٤). مشکوٰة باب صیام التطوع فصل اول ص ١٧٨. ظفیر

دنفل لمونځونه دشپې ثواب زيات دی. ظفير)

دافطار وخت کم دی؟ **سوال**: (١٢٧٠) درمضان دروژی افطارول څه وخت په کاردی؟

جواب: روژه دلمر لويدوځخه وروسته افطارول په کاردی دساعت سره ددی وخت مختلف وی اوددی کم مستقل وخت نه سی معين کيدی (١).

په شعبان کی کمه روژه ضروری ده او کمه ممنوع ده؟ **سوال**: (١٢٧١) په شعبان کی دکم تاريخ روژه فرض ده يا مسنون ده همدا رکم دارروايت چی په دی مياشت کی بغير د١٣ تاريخ څخه بله روژه نيول جائزدی اوکه ممنوع ترکمه صحيح دی؟

جواب: دشعبان په مياشت کی دکم تاريخ اودورځی روژه فرض اوواجب نه ده اوددياړلسم دشعبان دروژی کم خاص فضيلت دحديث پاك څخه ثابت نه دی البته په حديث پاك کی دا وارد دی چی دشعبان پنځلسمه شپه په ويښه تيرول اوپه عبادت باندی مشغوليدلی سی اودا چی په پنځلسم تاريخ باندی روژه ونيسی نو دشعبان دپنځلسم تاريخ روژه مستحب ده که څوك يې ونيسی نوثواب دی اوکه وی نه نيسی نوڅه حرج پکښی نسته. (٢). فقط

لسم باب

اعتكاف او دهغه مسائل

ديو لوی کلی په جومات کی داعتکاف په کولو سره دکوچنی کلی ذمه داری نه ختميږی:

سوال: (١٢٧٢) دلوی کلی په جومات کی په اعتکاف کولو سره دکوچنی کلی چی ددی کلی سره په څنګ کی دی، ددی خلګو دذمی څخه داسنت کفايه اداء کيږی اوکه نه؟

جواب: دلوی کلی په جومات کی په اعتکاف کولو دکوچنی کلی دخلګو دذمی څخه دا سنت کفايه نه اداء کيږی (٣). فقط

معتکف په جومات کی مريض وليدی نونسخه ورته ليکلی سی اوکه نه؟ **سوال**: (١٢٧٣) معتکف په جومات کی مريض وليدی، يايی حال واوريدی نونسخه ليکلی سی اوکه نه؟

---

(١). هوامساك عن المفطرات حقيقة اوحكما فی وقت مخصوص وهو اليوم (درمختار) وقال فی ردالمحتار ای اليوم الشرعی من طلوع الفجر الی الغروب الخ (ج٢ ص ١١٠ ، ط. س. ج٢ ص ٣٧١). ظفير

(٢). عن علی ان النبی ﷺ قال اذا كانت ليلة نصف شعبان فقوموا ليلها وصوموا يومها (الترغيب والترهيب كتاب الصوم ج٢ ص ٣٠). ظفير

(٣). وسنة مؤكدة فی العشر الاخير من رمضان ای سنة كفاية كما فی البرهان وغيره لاقترانها بعدم الانكار علی من لم يفلعه من الصحابة (درمختار) ای سنة كفاية نظيرها اقامة التراويح بالجماعة فاذا اقام بها البعض سقط الطلب عن الباقين (ردالمحتار باب الاعتكاف ج١ ص ١٧٧ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٢). ظفير

دارکم که معتکف دطبعی ضرورت سره دباندی ووځی دجومات څخه اویو مریض ددواء پوښتنه ځینی وکړی نودوا ورته ویلی سی اوکه نه؟

جواب: معتکف که په جومات کی مریض وګوری اوحال یی واوریدی نسخه ورته لیکلی سی اوعلاج یی کولی سی، اوکه معتکف دطبعی ضرورت په وجه دباندی وی دجومات څخه اومریض ورته حال ووایه اوددواء پوښتنه یی وکړه نوویل ورته جائزدی ([1]). فقط

معتکف ته دجومات په غسل خانه کی دیخوالی دپاره غسل کول څنګه دی؟ سوال: (٢٧۴\١) معتکف یواځی دګرمی ددفع کولو په خاطر دمسجد په غسل خانه کی ورته غسل کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: هغه معتکف چی نفلی اعتکاف کوی ورته صحیح دی ([2]). فقط

معتکف به دجومات په یوه معلوم ځای کی اوسیږی اوکه بدلولی یې سی؟ سوال: (٢٧۵\١) معتکف خپل ځان ته په جومات کی ځای مقررولی سی نوهغه به په همدی ځای کی اوسیږی اوکه نه؟ دمسجد په هرځای کی چی وغواړی اوسیدی سی؟

معتکف دجومات دصحن په کونج کی غسل کولی سی اوکه نه؟ سوال: (٢٧٦\١) معتکف دجمعی دغسل کولو دپاره بیرون ته نسی تللی دحویلی په یوکونج کی چی دجومات څخه خارج ته نژدی وی یاجلا وی دجمعی غسل کولی سی اوکه نه؟

جواب: \١: دجومات په هرځای کی چی اوسیدل غواړی اوسیدلی سی څه حرج نسته. ([3])

\٢: کولی سی ([4]). (مګر داسی غسل دی وکړی چی مستعملی اوبه په جومات کی ونه بهیږی. ظفیر)

معتکف تفریحی غسل کولی سی اوکه نه؟ سوال: (٢٧٧\١) معتکف دواجب او دنفلی غسل

([1]). خص المعتکف باکل وشرب ونوم وعقد احتاج الیه لنفسه اوعیاله فلو لتجارة کره (درمختار) لکن قال فی متن الوقایة ویاکل ای المعتکف ویشرب وینام ویبیع ویشتری فیه لاغیره قال ملاعلی القاری رحمه الله فی شرحه ای لا یفعل غیر المعتکف شیئا من هذه الامور فی المسجد آه ومثله فی القهستانی (ردالمحتار باب الاعتکاف ج٢ ص ١٨۴ وج٢ ص ١٨۵ ، ط. س. ج٢ ص ۴۴٧). ظفیر

([2]). هذا کله فی الاعتکاف الواجب اما فی النفل فلا اس بان یخرج بعذر وغیره فی ظاهر الروایة وفی التحفة لا باس فیه بان یعود المریض ویشهد الجنازة (عالمگیری باب الاعتکاف ج١ ص١٩٩، ط. س. ج٢ ص٢١٣). ظ

([3]). وخص المعتکف باکل وشرب الخ (درمختار) ای فی المسجد والباء داخلة علی المقصور علیه بمعنٰی ان المعتکف مقصور علی الاکل ونحوه فی المسجد (ردالمحتار باب الاعتکاف ج٢ ص ١٨۴ ، ط. س. ج٢ ص ۴۴٧). ظفیر

([4]). لا یمکنه الاغتسال فی المسجد (درمختار) فلو امکنه من غیر ان یتلوث المسجد فلاباس به، بدائع ای بان کان فیه برکة ماء اوموضع معد للطهارة اواغتسل فی اناء بحیث لایصیب المسجد الماء المستعمل (ردالمحتار باب الاعتکاف ج٢ ص ١٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ۴۴۵). ظفیر

څخه بغیر دګرمی دوجه غسل کولی سی اوکه نه؟ دمشکوٰة په شرح کی یی واجب اونفلی غسل ته اجازه ورکړیده.

آیا معتکف دخپل اعتکاف دځای څخه بیرون خوب کولی سی؟ سوال: (٢٧٨\٢) معتکف دخپل معتکف څخه بغیر په جومات کی دشپی په وخت په بل ځای کی خوب کولی سی اوکه نه؟

جواب: ١\: په درمختار کی دی. وغسل لو احتلم (١). معلومه سوه چی په واجب اعتکاف کی دواجب غسل څخه بغیر دبل غسل دپاره وتل صحیح نه دی البته که په جومات کی دغسل ځای وی نوبیا تبریداً هم غسل کولی سی موافق دقاعدی. واما النفل فله الخروج (٢). یعنی په نفلی اعتکاف کی مطلقًا خروج صحیح دی. لانه لامبطل (٣). اودتبرید دپاره دجومات څخه دباندی دغسل دپاره تلل صحیح دی.

٢\: معتکف چی په کم جومات کی معتکف دی دجومات په هرځای کی چی اوسیدل وغواړی اوسیدلی سی. کما یظهر من حده بانه لبث فی مسجد جماعة الخ وقید الخروج الی المحتلم للغسل بعدم امکان الغسل فی المسجد حیث قال وغسل لو احتلم ولایمکنه الاغتسال فی المسجد الخ (٤). فعلم ان المسجد کله معتکفه . فقط

دنفلی اعتکاف په قطع کولو سره قضاء واجب ده اوکه نه؟ سوال: (٢٧٩\١) دنفلی اعتکاف څخه که په سخت ضرورت سره دیوي شپی اودیوی ورځی څخه مخکی دباندی راسی نو ددی قضاء واجب ده اوکه نه؟ اوکه دیوم ولیلة څخه زیات دباندی راغی لیکن دماه صیام دختم څخه مخکی، نوهم دیوم ولیلة قضا کافی سوه اوکه نه دزیات ضرورت دی؟

جواب: دنفلی اعتکاف په قضاء کولو سره بیا قضاء لازمیږی که هغه دیوم ولیلة څخه مخکی قطع سی اوکه وروسته دیوی شپی او ورځی څخه، خومره چی اداء سو اداء کیږی ځکه چی درروایت پربناء اصل ادنٰی مدت داعتکاف یوساعت دی اوددی دپاره روژه هم شرط نه ده په خلاف دواجب اعتکاف چی دقطع کولو سره یی قضاء لازمیږی اوددی دپاره روژه هم شرط ده (٥). فقط

دګرمی دوجه څخه معتکف لره دجومات څخه دباندی غسل کول څنګه دی؟ سوال: (٢٨٠\١)

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاعتکاف ج٢ ص ١٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٥). ظفیر

(٢). ایضا. ظفیر

(٣). ایضا. ظفیر

(٤). ایضا. ظفیر

(٥). ایضا. ظفیر

معتكف يوائي دبدن ديخولو دپاره دسختئ ګرمۍ څخه غسل كول غواړي نو دجومات څخه دباندې وتل ورته جائزدي اوكه نه دجومات په يوځاى كې دې ودريږي اوغسل دې وكړي؟

جواب: دجومات څخه دباندې وتل دمعتكف دپاره دتبريدي غسل دپاره صحيح نه دى او كه دجومات دفرش په غاړه غسل وكړي نوڅه حرج پكښې نسته ([1]).

داعتكاف په حالت كې دمجبورۍ دوجه دود ځكل څنګه دي؟ **سوال**: (٢٨١\) دپړسيدو او دكثرت رياح په وجه كه څوك دحقه عادي وي اوفرض سي چي ددې بدل سريع الاثر نه ترلاسه كيږي نودغه ډول شخص داعتكاف په حالت كې دجومات څخه دباندې ووتې هلته دود څښلى سي؟

جواب: دمعتكف خوراك څښاك ټول په جومات كې وي لهذاددود دڅښلو دپاره دجومات بهر وتل جائزنه دي، باقي داچي ددود څښل په جومات كې مكروه دي نوددې وجه څخه ددې پرېښوول پكاردي په اعتكاف كې، ځكه چي دسنتو داداء كولو په وجه دمكروه مرتكب كيدل درست نه دي ([2]). فقط

كه دجومات دپاره په غصب باندې يوځاى اخيستل سوي وي نوپه دغه ځاى كې دمعتكف اوسيدل څنګه دي؟ **سوال**: (٢٨٢\) زيد دبكر اودعمر اودخالد دمملوكه حويلى لار دجومات په فرش كې غصبًا داخله كړيده، په دغه ځاى كې چي په ظاهر ټول دجومات فرش معلوميږي دمعتكف بلا ضرورته دريدل يا داوداسه دپاره كښېنستل دمعتكف دپاره جائزدي اوكه نه؟ اوكه په دې ځاى كې په كښېنستلو سره اعتكاف ماتيږي اوقضاء باندې واجب كيږي؟

جواب: ښكاره ده چي كم ځاى په جومات كې غصبًا داخل سويدى هغه جومات نه دى معتكف ته داعتكاف په حالت كې هلته تلل اوكښېنستل داعتكاف دپاره مفسددي، اودغه اعتكافورباندې واجب سو اوبيايې قضاء لازمه ده ([3]). فقط

([1]). فلوشرع فى نفله ثم قطعه لايلزمه قضاء لانه لايشترط له الصوم على الظاهر من المذهب وما فى بعض المعتبرات انه يلزم بالشروع مفرع على الضعيف قاله المصنف وغيره (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الاعتكاف ج٢ ص ١٧٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٤) فلوخرج ولو ناسيا ساعة الخ بلا عذر فسد فيقضيه (درمختار) اى لو واجبا بالنذر اما التطوع لو قطعه قبل تمام اليوم فلا الخ (ردالمحتار باب الاعتكاف ج٢ ص ١٨٢ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٧). ظفير

([2]). وحرم عليه اى على المعتكف اعتكافا واجبا اما النفل فله الخروج الخ الخروج الا لحاجة الانسان طبعية كبول وغائط وغسل لو احتلم ولا يمكنه الاغتسال فى المسجد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الاعتكاف ج٢ ص ١٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٤) . ظفير

معتکف چې دجومات څخه دباندې راسي نودهغه اعتکاف باقي نه پاته کیږي: سوال: (٢٨٣) معتکف دجومات څخه دباندې دڅه ملازمه دضرورت دپاره ولاړسي نواعتکاف يې باقي پاته کيږي اوکه نه؟

جواب: په دې حالت اعتکاف باقي نه پاته کيږي داماتيږي، والتفصيل في كتب الفقه (١)

دشلمي شپې ديوې حصې دتيريدلو څخه وروسته يې اعتکاف شروع کې نوڅه حکم دی؟

سوال: (٢٨٤) که معتکف په اعتکاف کې دشلمي شپې څه حصه تيره سي له دينه وروسته داخل سو نوآيا دعشرۀ اخير سنت اداء نه سو؟

جواب: په دې صورت کې عشره اخيره ټول اعتکاف ونه سو اوسنت پوره نه سول. (٢)

دعذر په وجه يې اعتکاف ونه کې داخنګه دی؟ سوال: (٢٨٥) يومولوي صاحب مسافر ددوو کلونو راهيسې دلته اوسيږي داعتکاف ډير فضائل يې بيان کړل خوپخپله اعتکاف نه کوي اودا عذر مخکې کوي چې زماپه کورکې داوسيدو ځوك نسته (کوريي يواځې دی) دلته زما خپلوان اودوستان نسته زما دکور په خواکې يوخالي ميدان دی او ښځه اوماشومان مې ډير بيريږي اوکله ناکله مې کورته تيږې هم راغورځيږي نودمولوي صاحب داعذر قابل قبول دی اوکه نه دی؟

جواب: دمذکوره اعذار دوجه څخه داعتکاف پرينښوول څه ګناه نه ده اوموجب دملامتي هم نه دی. په درمختار باب الاعتکاف کې دي: وسنة مؤكدة في العشر الاخير من رمضان اي سنة كفاية الخ لاقترانها بعدم الانكار على من لم يفعله من الصحابة. وهكذا في الشامي (٣). فقط

داخيرې عشرې درمضان اعتکاف واجب دی اوکه نفل؟ سوال: (٢٨٦) درمضان په اخيره عشره کې اعتکاف واجب دی اوکه نفل؟

جواب: درمضان شريف په اخيرې عشره کې اعتکاف کول سنت مؤکده کفايه دی، اودا قسم دواجب اودنفلو دواړو څخه جلا دی اوممتاز دی کما فصله في الشامي. (٤)

---

(٣). فلوخرج ولو ناسيا ساعة زمانية بلا عذر فسد فيقضيه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الاعتكاف ج٢ ص ١٨٢ ج٢ ص ٤٤٧). ظفير

(١). ايضًا. ظفير

(٢). وسنة مؤكدة في العشر الاخير من رمضان اي سنة كفاية (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الاعتكاف ج٢ ص ١٧٧ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٢) وعند الائمة الاربعة انه يدخل قبل غروب الشمس ان اراد اعتكاف شهر او عشر (مرقات باب الاعتكاف ج٢ ص ٥٠٧ ، ط. س. ج٢ ص ٥٧٠). ظفير

(٣). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الاعتكاف ج٢ ص ١٧٧ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٢. ظفير

(٤). وسنة مؤكدة في العشر الاخير من رمضان اي سنة كفاية الخ لاقترانها بعدم الانكار على من لم يفعله من =

دمعتکف دپاره دجومات څخه جلا حویلی داخله ده او که نه ؟ سوال: (۲۸۷\) اعتکاف کوونکی ته دجومات څخه جلا حویلی داخل (دجومات) ده اوکه نه؟

جواب: په دی کی دجومات دبانی نیت اعتبار لری که هغه جلا ځای دجومات داخل ګڼی نوداخل دی اوکه نه نو خارج دی اواکثره داسی فکر کوی چی کم جلا فرش دجومات سره یوځای سوی دی هغه داخل مسجددی اوبل طرف فصیل یی خارج دی.

په یو ویشتمه شپه اعتکاف ته کښی نستی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۸۸\) که یوسړی په یو ویشتمه شپه پیشلمی وکړی چی دصبح صادق څخه لږ څه مخکی داعتکاف په نیت جومات ته داخل سو نودده اعتکاف صحیح دی اوکه نه؟ دجومات احاطه دجومات په مځکه کی داخله ده اوکه نه؟ اومعتکف دجومات څخه یی وتل اوپه صحن یا احاطه کی کښینستل بی دضرورته جائزدی اوکه نه؟

جواب: سنت دادی چی په شلم تاریخ دغروب څخه مخکی جومات ته باید داخل سی لیکن ددی څخه وروسته هروخت چی نیت وکړی اومسجد ته داخل سی هم صحیح دی لیکن دعشره کامله وو فضیلت په دی صورت کی نه حاصلیږی نبی کریم ﷺ دعشره کامله اعتکاف کړی چی شلم تاریخ دماښام څخه پوره کیږی (١) غرض داچی په صورت مسئوله کی دا اعتکاف صحیح کیږی.

دجومات اطلاق صرف دجومات پر سه دری اوفرش باندی کیږی اوهمدا شرعًا جومات وی معتکف ته جائز نه دی چی ددی څخه تجاوز وکړی، اوکه داسی وکړی نواعتکاف به یی باطل سی، اومعتکف ته مناسب نه دی چی بدی خبری وکړی اوجګړه وکړی فقهاوو لیکلی دی چی دمعتکف دپاره دښوخبرو څخه علاوه نوری خبری کول مکروه تحریمی دی، ځکه چی اول خوپه جومات کی بغیر داعتکاف څخه هم دداسی خبرو اجازه نسته، بیا خصوصًا داعتکاف څخه وروسته هم ددی څخه دزیات احتیاط ضرورت دی په در مختار کی دی: وکره تحریمًا الخ تکلف الابخیر وهو ما لا اثم فیه الخ (٢). معتکف ته په کاردی چی دقرآن په تلاوت وغیره باندی مشغول وی ځکه چی داعتکاف غرض اصل انابت الی الله دی. قال فی البحر: قالوا ویلازم قرآئت القرآن والحدیث والعلم والتدریس

= الصحابة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاعتکاف ج٢ ص ١٧٧ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٢) . ظفیر

(١). وسنة مؤکدة فی العشر الاخیر من رمضان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الاعتکاف ج٢ ص ١٧٧ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٢) وعند الائمة الاربعة انه یدخل قبل غروب الشمس ان اراد اعتکاف شهر اوعشرا (مرقات باب الاعتکاف ج٢ ص ٥٧٠) . ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاعتکاف ج٢ ص ١٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٩. ظفیر

وسير النبی ﷺ وقصص الانبياء وحكاية الصالحين وكتابة امور الدين ([1]) الخ .

داعتكاف په حالت كی معلم په جومات كی درس وركولی سی اوكه نه؟ سوال: (١١٢٨٩)

معتكف معلم په جومات كی ماشومانو ته تعليم وركولی سی اوكه نه؟

معتكف تالاب ته راتلل اوپكښی غسل كولی سی اوكه نه؟ سوال: (٢١٢٩٠) معتكف چی دجومات څخه ووځی اوپه تالاب كی اودس وكړی نودا جائز دی اوكه نه؟ او دضرورت څخه بغير په تالاب كی دغسل كولو څه حكم دی؟

جواب: ١\ : قال فی الدرالمختار ويفسق معتاد المرور بجامع ومن علم الاطفال فيه ويوزر الخ قوله: ومن علم الاطفال الذي في القنية انه ياثم ولا يلزم منه الفسق ولم ينقل عن احد القول به ويمكن انه بناه على انه بالاصرار عليه يفسق افاده الشارح ، قلت: بل في التتارخانية عن العيون جلس معلم او وراق في المسجد فان كان يعلم او يكتب باجر يكره الا لضرورة وفي الخلاصة تعليم الصبيان في المسجد لا باس به لكن استدل في القنية بقوله عليه السلام جنبوا مساجدكم صبيانكم ومجانينكم الخ ردالمحتار ([2]).

حاصل داچی بلاضرورة په جومات كی دماشومانو تعليم مكروه دی، اوممكنه ده چی د: الا لضرورة. څخه تری معتكف مستثنٰی سی.

٢\ . اوپه ذكرسوی حالت كی معتكف دجومات څخه دباندی وتل اوپه تالاب كی اودس كول يی جائزنه دی اودضروری غسل څخه بغير دبل غسل دپاره هلته تلل هم درست نه دی. هكذا يفهم من الدر المختار والشامی كبول وغائط وغسل لو احتلم ولا يمكنه الاغتسال فلا باس به الخ. ردالمحتار ([3]) فقط

معتكف برنډی ته په راتلو وغيره څنكه دی؟ سوال: (٢٩١١١) كه معتكف بی دعذر څخه دجومات برنډی ته راووځی نودده په اعتكاف كی څه خلل اوحرج سته اوكه نه؟ معتكف ته په برنډه دجومات كی اودس اوغسل څنګه دی؟

ايا اعتكاف دلسو ورځو څخه كم وی: سوال: (٢٩٢١٢) اعتكاف دلسو ورځو څخه كم وی او كه نه؟

([1]). يكره تحريما صمت ؒ كقراءة وتكلم الا بخير كالقرآن والحديث والعلم والتدريس في سير الرسول ﷺ وقصص الانبياء علیهم السلام وحكايات الصالحين وكتابة امور الدين (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الاعتكاف ج٢ ص ١٨٥ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٩). ظفير

([2]). ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة فصل فی البيع ج ٥ ص ٣٧٨ ، ط. س. ج٢ ص ٣٧٨. ظفير

([3]). ردالمحتار باب الاعتكاف ج٢ ص ١٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٥. ظفير

ديوى آبادى سړى چى په بله آبادى كى اعتكاف وكړى نو دكمى ابادى سنت اداء كيږى ؟

سوال: (٢٩٣\٣) كه ديوكلى سړى بل كلى ته ولاړ سى اواعتكاف وكړى نوسنت كفايه به دكم كلى څخه ساقط سى؟ اودڅه وركولو سره داعتكاف كول څنګه دى؟

جواب: ١\ : كه اعتكاف منذور دى نوباطليږى اوكه اعتكاف نفلى وى نونه باطليږى ددى وجه څخه فقهاوو اعتكاف واجب ګرځولى اودجومات څخه وتل يى حرام ګرځولى اوپه نفلى اعتكاف كى يى مباح ګرځولى. كما فى الدرالمختار وحرم عليه اى على المعتكف اعتكافا واجبًا (اما النفل فله الخروج لانه منه له لامبطل) الخروج الا لحاجة الانسان وفى الشامى قوله: اما النفل اى الشامل للسنة المؤكدة (١). ج٢ ص ١٣٥. وفيه ايضا لوشرع فى المسنون اعنى العشر الاواخر الخ (٢) وفى الخلاصة لو اعتكف الرجل من غير ان يوجب على نفسه ثم يخرج من المسجد لاشيئ عليه، ج١ ص ٢٧٢. ددى عباراتو څخه ثابته ده چى په نفلى اعتكاف كى خروج من المسجد مبطل نه دى بلكى منهى دى، همدا ركم دا اعتكاف مسنون دى كم چى درمضان په اخرى عشره كى دى، او هم داركم دا اعتكاف مسنون يعنى درمضان په اعتكاف كى هم دجومات څخه دوتلو همدا حكم دى كم چى په نفلى اعتكاف كى دى يعنى داچى خروج من المسجد نه حرام دى اونه داعتكاف دپاره مبطل دى بلكى منهى دى، البته كه دنبى كريم ﷺ څخه داقسم خروج ثابت نه وى نودمسنونه طريقى خلاف دى، په واجب اعتكاف كى كه دغسل ضرورت پيښ سو اوپه جومات كى غسل ونه سى نودجومات څخه دباندى غسل كول جائزدى او همدا داوداسه حكم هم دى.

٢\ : اواعتكاف مسنونه دلسو ورځو څخه كم نه وى. كما فى الشامى والحاصل أن الوجه يقتضي لزوم كل يوم شرع فيها عندهما بناء على لزوم صومه، بخلاف الباقي لان كل يوم بمنزلة شفع من النافلة الرباعية وإن كان المسنون هو اعتكاف العشر بتمامه. تأمل (٣) ج٢ ص ١٣٥. اونفلى اعتكاف علاوه دمسنون اعتكاف څخه درمضان په يوساعت كى هم كيدى سى. كما فى الدر المختار قال وعليه الفتوٰى.

٣\ : ددريم سوال جواب دادى چى دفقهاؤ دعباراتو څخه معلوميږى چى ددى كلى له خلګو څخه ساقطيږى په كم كى چى معتكف اعتكاف كړى دى، ددى وجه څخه چى

---

(١). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الاعتكاف ج٢ ص ١٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٤. ظفير

(٢). ردالمحتار باب الاعتكاف ج٢ ص ١٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٤. ظفير

(٣). ردالمحتار باب الاعتكاف ج٢ ص ١٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٤٤. ظفير

اعتکاف علی الاشهر سنت کفایه دی چی تعلق یی دکلی دخلگو سره وی نولکه څه رکم چی دترك څخه یی هم دغه خلگ گنهکاره کیږی، نودهمدغه وجه څخه په اداء سره یی همدغه خلگ بری کیږی. وفی جامع الرموزوقیل سنة کفایة حتٰی لوترك فی بلدة لاسائوا، ص ۱۷۴. ښکاره ده چی په دی عبارت کی داسائت تعلق داهل بلد دترك اعتکاف سره قرار نه دی نیولی بلکی په متروك فی البلدة کیدو سره یې اهل بلده مسیئ گرځولی دی ددی څخه ښکاره ده چی اجنبی سړی هم معتکف کیدی سی نوپه دی صورت کی هم اعتکاف متروك فی البلد کیدل صادق نه راځی دکم څخه چی لازمیږی چی داهل بلده څخه سنت اداء سی اواجرت ورکړی اعتکاف کول جائزنه دی ځکه چی دعباداتو دپاره داجرت ورکول اواخیستل دواړه ناجائزدی. کما هو (١) مبسوط فی الشامی فصل فی الجنائز والاجارات، اوکه بغیر ددریدو څخه داعتکاف اجرت ورکړی اواعتکاف یی وکی او اجرت یی ورکی هلته معروف هم نه دی نودابیا جائزدی بلکی داپه امر بالمعروف کی داخلیږی.

داعتکاف په حالت په بل جومات کی دقرآن کریم داوریدلو دپاره ورتلل صحیح دی اوکه نه؟

سوال: (۲۹۴/) زید همیشه درمضان په اخیری عشره کی معتکف کیږی سږکال تازه حالت دامخکی راغی چی زید دنواب صاحب په ځای کی دقرآن شریف په تراویحو کی داوریدلو دپاره ځی داجائز دی اوکه ناجائز؟

جواب: که چیری داعتکاف په وخت کی نیت وکړی چی زه به په تراویحو کی دقرآن کریم داوریدلو دپاره ځم نوداجائز دی (٢). فقط

داعتکاف په حالت کی دډاکخانی کارکول څنګه دی؟ **سوال:** (۲۹۵/) زماپه ډاکخانه کی کاردی (یعنی موظف یم) ایا داعتکاف په حالت کی په ډاکخانه کی کار کولی سم چی په ژبه سره خبری ونه کړم؟

جواب: په جومات کی اوسیدل دمعتکف داعتکاف دپاره ضروری دی بغیر ددغه څخه ده اعتکاف نه سی کیدی، په درمختار کی دی: فاللبس هو الرکن والکون في المسجد الخ وحرم علیه ای علي المعتکف الخ الخروج الا لحاجة الانسان طبعیة کبول وغائط وغسل لو احتلم الخ او شرعیة کعید واذان لو مؤذناً وباب المنارة خارج المسجد

(١). ولا یجوز اخذ الاجرة علی الطاعة کالمعصیة (ردالمحتار باب صلاة الجنائز بحث غسل ج١ ص ٨٠۴ ، ط. س. ج٢ ص ١٩٩) . ظفیر

(٢). قوله شرط وقت النذر والالتزام ان یخرج الی عیادة المریض وصلاة الجنازة وحضور مجلس العلم یجوز له ذالك کذافی التتارخانیة (عالمگیری مصری کتاب الصوم باب سابع ج١ ص ١٩٩ ، ماجدیه ج١ ص ٢١٢). ظ

والجمعة وقت الزوال الخ ([1]). ددی روایت څخه معلومه سوه چی دمعتکف په جومات کی اوسیدل ضروری دی داودس مات کوچنی اوغټ، دجنابت غسل او دجمعی دغسل وغیره دپاره وتل جائزدی بناء په دی په جومات کی دننه دډاکخانی کارکول دضرورت دوجه څخه زبانی خبری کول جائزدی ([2]) لیکن دډاکخانی دکار دوجه څخه دجومات څخه دباندی وتل داعتکاف دپاره مفسد دی اوداعتکاف په حالت کی خاموش اوسیدل ضروری نه دی البته بغیر دضرورت څخه اوفضول خبری کول مکروه دی اووعظ کول او جماعت کول دمعتکف دپاره بی دشبهی جائز بلکی موجب داجر او دثواب دی ([3]).

که دچا دمریضی دوجه درمضان په اخیری عشره کی اعتکاف پریښوی نواوس څه وکړی؟

سوال: (٢٩٦/) درمضان په اخیری عشره کی یی اعتکاف وکی خوپه مینځ کی مریض سو اواعتکاف یی پری ښووی، اوس دصحت څخه وروسته ددی اعتکاف قضاء وکړی اوکه نه؟ اودروژی هم قضایی وکړی اوکه نه؟ اوپه ناجوړی کی پنځه ورځی قضاء سوی په اعتکاف کی دغه روژه اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: په درمختارکی دی: وشرط الصوم لصحة الاول اتفاقا فقط علی المذهب قوله لصحة الاول ای النذر، شامی ([4]). فلو شرع فی نفله ثم قطعه لایلزمه قضائه لانه لا یشترط له الصوم علی الظاهر من المذهب الخ اما النفل فله الخروج ([5])، قوله اما النفل ای الشامل للسنة الموکدة طحطاوی شامی الخ ([6]). ددی روایت څخه داښکاره ده چی داعتکاف داخیری عشری درمضان کی قضاء نه لازمیږی علامه شامی دمحقق ابن همام سره په دی کی اختلاف هم نقل کړی دی لیکن اکثره متون اوشروح په دی باندی دی چی اعتکاف داخیری عشری درمضان واجب نه دی، اوقضاء په غیر دواجبو نه لازمیږی او دنفلو دشروع کولو سره هم که څه هم لازمیږی مگر په اعتکاف کی دومره قدر واجبیږی چی اقل دنفلو وی، په هرحال مقتضٰی دهغه روایتونو څخه دادی چی داعتکاف قضاء

---

[1]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاعتکاف ج٢ ص ١٧٧ وص ١٨٠ ، ط. س. ج٢ ص ۴۴٠. ظفیر

[2]. وخص المعتکف باکل وشرب ونوم وعقد احتاج الیه لنفسه اوعیاله فلو لتجارة کره الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاعتکاف ج٢ ص ١٨۴ ، ط. س. ج٢ ص ۴۴٨). ظفیر

[3]. لا بخیر وهو مالا اثم فیه الخ کقرائت القرآن وحدیث وعلم وتدریس فی سیر الرسول ﷺ وقصص الانبیاء وحکایات الصالحین وکتابة امور الدین (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاعتکاف ج٢ ص ٨۵ ، ط. س. ج٢ ص ۴۴٩)، ظفیر

[4]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاعتکاف ج١ ص ١۵٢ ، ط. س. ج٢ ص ۴۴٢. ظفیر

[5]. ردالمحتار باب ایضا ج٢ ص ١٧٧ ، ط. س. ج٢ ص ۴۴٢. ظفیر

[6]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاعتکاف ج١ ص ١۵٧ ، ط. س. ج٢ ص ۴۴۴. ظفیر

یوائی دهغه پنځو ورځو لازمه ده دکمو چی قضاء لازمه ده اوکه داعتکاف هم قضاء وکړی نوهغه درمضان روژی چی قضاء سویدی په هغه کی هغه اعتکاف هم کولی سی نو گویا چی په دی صورت کی ټولی لس روژی ونیسی نوشپږ روژی به درمضان دقضاء سی اوباقی څلور روژی نوری نیول په کاردی.

* * *

كتاب المناسك

اول باب

دحج فرضیت، کیفیت اودهغه اداء کول

دصحراء جائیداد که خرڅ کړی نوحج ته باندی تلل ضروری دی اوکه نه؟ سوال: (١\) دیوه سړی سره نغدی روپی نسته لیکن دهغه په نوم دصحراء جائیداد یی دومره دی چی دهغه څخه یوڅه حصه جائیداد خرڅ کړی نودهغه په واسطه حج دبیت الله شریفی اوهم دکور والاوو دانتظام روپی کیدی سی نوپه داسی سړی حج فرض دی اوکه نه؟

جواب: که جائیداد دومره وی چی دآمدنی څخه یی اودپیداوار څخه یی دعیال دیوکال خرڅ زیات نه وی نوبیاپه ده باندی حج فرض نه دی اودمځکی خرڅول درباندی لازم نه دی (١). فقط

که دچا طاقت پیداسی نولومړی دی دخیر کار وکړی اوکه نه حج وکړی؟ سوال: (٢\) زید وایی چی زما اراده ده چی که الله ﷻ ماته روپی راکړی نوزه به دخپلو ورونو سره وصله رحمی وکړم (دهغه لاس اوس تنگ دی) اوکه پراخی راغله نوجومات به جوړ کړم، نوکه الله ﷻ هغه ته مال ورکی نوهغه اول حج وکی اوکه خپلو ورونو ته روپی ورکړی اوکه جومات جوړ کړی؟

دناجائزو روپو څخه حج فرض کیږی اوکه نه؟ سوال: (٣\) دیوسړی سره دسود اودغلا دومره روپی دی چی حج درباندی فرض دی داسړی ددی څخه حج وکړی اوکه نه؟ اوکه وی یی کړی نوحج یی اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: ١\ : چی روپی ورسره وی اوحج فرض وی اول دی حج وکړی بیادی دغریبو ورونو

---

(١). هوفرض علی مسلم حر صحیح بصیر ذی زاد فضلا عما لابد منه الخ وحرر فی النهر انه یشترط بقاء راس مال لحرفة (درمختار) کتاجرودهقان ومزارع کمافی الخلاصة وراس المال یختلف باختلاف الناس (بحر) قلت والمراد مایمکنه الاکتساب به قدر کفایة وکفایة عیاله لا اکثر لانه لانهایة له (ردالمحتار کتاب الحج ج٢ ص ١٩٢ ، ط. س. ج٢ ص ٤٥٥ و ٤٥٦). ظفیر

سره امداد وکړی اوبیا دی مسجد اوخاه جوړ کړی (۱) (خطبنا رسول الله ﷺ فقال ایها الناس قد فرض علیکم الحج فحجوا. مشکوٰة ص ۲۲۰. ظفیر)

۲\ : فرض حج دی بل وکړی حج به یی اداء سی، اودکمو خلکو چی په ناجائزه طریقه تر لاسه کړی هغوی ته یا دهغوی ورثه وو ته دی دومره قدری روپی ورکړی یا دی معاف کړی او یا دی ورته صدقه کړی. فقط

که کوریی نه وی نومستطیع حج وکړی اوکه کور جوړ کړی؟ سوال: (۴\.) زموږ کورنسته نوپه کور جوړولو باندی روپی مصرف کړی اوکه نه حج فرض دی؟

جواب: دچا سره چی دحج موافق روپی وی نوحج کول فرض دی دکور جوړول ضروری نه دی (۲).

که مځکه ګرو ورکړی اوحج وکړی داځنګه دی؟ سوال: (۵\.) زه حج ته تلل غوارم زماسره نغدی روپی نسته لیکن جائیداد سته آیا دغه جائیداد ګرو ورکړم ددغو روپو څخه حج ته تللی سم اوحج کولی سم؟

جواب: که حج فرض سی نوقرض هم اخیستلی سی اوحج کولی سی (۳) اودجائیداد ګرو کول دغه قسم ګټه چی مرتهن وړی جائزنه دی اوکه دمځکی منافع مرتهن نه وړی نو صحیح ده (۴)، فقط (۵)

---

(۱). دحج دفرض کیدوڅخه وروسته په دستی ددی ادا کول ضروری دی. اودنورو اشیاء درجه ددی څخه وروسته ده. عن ابی هریرة قال سئل رسول الله ﷺ ای العمل افضل قال الایمان بالله ورسوله قیل: ثم ماذا قال: الجهاد فی سبیل الله، قیل: ثم ماذا قال حج مبرور، متفق علیه (مشکوٰة کتاب المناسك ص ۲۲۱). ظفیر

(۲). وقد يتصف بالحرمة كالحج بمال حرام (درمختار) فقد يقال: إن الحج نفسه الذي هو زيارة مكان مخصوص الخ ليس حراما، بل الحرام هو إنفاق المال الحرام، ولا تلازم بينهما، كما أن الصلاة في الارض المغصوبة تقع فرضا ﷺ قال في البحر: ويجتهد في تحصيل نفقة حلال، فإنه لا يقبل بالنفقة الحرام كما ورد في الحديث، مع أنه يسقط الفرض عنه معها ﷺ (ردالمحتار كتاب الحج مطلب فی من حج بمال حرام ج۲ ص ۱۹۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۵۲). ظفیر

(۳). هو فرض بشرط حرية وبلوغ وعقل وصحة وقدرة وزاد وراحلة وفضلت عن مسكنه وعما لا بد منه (كنز) وفی قوله وما لا بد منه اشارة الی ان المسكن لا بد ان يكون محتاجا اليه للسكنی فلا تثبت الاستطاعة بدار يسكنها ﷺ (البحر الرائق ج۲ ص ۳۳۷ ، ط. س. ج۲ ص ۳۱۱) وكذا لو كان عنده ما لو اشتری به مسكنا وخادمًا لايبقی بعده مايكفی للحج لايلزمه، خلاصه (درمختار) والذي رأيته في الخلاصة هكذا: وإن لم يكن له مسكن ولا شئ من ذلك وعنده دراهم تبلغ به الحج وتبلغ ثمن مسكن وخادم وطعام وقوت وجب عليه الحج، وإن جعلها في غيره أثم اهـ لكن هذا إذا كان وقت خروج أهل بلده كما صرح به في اللباب، أما قبله فيشتري به ما شاء لانه قبل الوجوب (ردالمحتار كتاب الحج ج۲ ص ۱۹۷ ، ط. س. ج۲ ص ۴۶۲). ظفیر

(۴). قوله وسعه ان يستقرض ويحج ای جاز ذالك وقيل يلزمه الاستقراض (ردالمحتار كتاب الحج ج۲ ص ۱۹۲ ، ط. س. ج۲ ص ۴۵۷). ظفیر [باقی]

سوال غوښتل اوحج كول څنګه دي؟ سوال: (٦) په سوال كولو او فقر كولو سره دحج كول جائزدي اوكه ناجائز؟

جواب: داجائزنه دي ([1]).

يومالداره دزوي په واده كي روپي مصرف كړي بيا دولت جمع نه سو نو دحج څه حكم دي؟

سوال: (٧) ديوسړي سره دومره مال وو چي حج باندي كولي سي ليكن حج يي ونه كي ليكن هغه روپي يي دخپل اولاد په واده باندي مصرف كړي اوس مفلس سو اوتمام عمر مفلس وو اومال يي جمع نه كي اومړ سو نوآيا دي تارك حج اوګنهګار مړسو؟

جواب: پرده باندي حج فرض سويدي كه بي حجه مړسو نودفرضي حج تارك به سي او ګنهګار دي ([2]).

چي صرف مكي مكرمي ته دتللو روپي ورسره وي اودمديني منوري مصرف ورسره نه وي نوحج فرض دي اوكه نه؟ سوال: (٨) كه دچا سره دومره روپي وي چي يواځي حج كولي سي اومديني منوري ته نسي تللي نوپه ده باندي حج فرض دي اوكه نه؟ اوكه يادي انتظار وكړي چي دمديني منوري خرچه هم ورسره پيدا سي؟

جواب: حج فرض سويدي اوانتظار كول نه دي په كار ([3]). فقط

مالداره حج وكړي اوكه داولاد واده؟ سوال: (٩) كه ديوسړي سره دومره روپي وي چي حج ورباندي كولي سي اوعيالداره هم دي نودده داولاد نكاح كول فرض دي اوكه حج كول؟

دري سوه پنځوس روپي كه دچاسره وي پرهغه حج سته اوكه نه؟ سوال: (١٠) ديوسړي سره مبلغ دري سوه اوپنځوس روپي جمع سوي ايا پرده باندي حج فرض دي اوكه نه؟ ځكه

([5]). يكره للمرتهن ان ينتفع بالرهن وان اذن له الراهن وعليه يحمل ماعن محمد عن اسلم من انه لايحل للمرتهن ذالك ولو بالاذن (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب التصرف في الرهن ج٥ ص ٤٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ٥٢٢). ظفير

([1]). واما القدرة على الزاد والراحلة فالفقهاء على انه من شرط الوجوب فلا وجوب اصلا يتعلق بالفقير لاشتراط الاستطاعة في اية الحج (البحر الرائق كتاب الحج ج٢ ص ٣٣٥) او حديث شريف دي: السوال ذل، او حضرت ابو ذر ﷺ فرمايي: امرني خليلي بسبع، امرني بحب المساكين ﷺ وامرني ان لا اسأل احدا شيئا. (مشكوة باب فضل الفقر ص ٤٤٩). ظفير

([2]). هو (اى الحج) فرض الخ مرة الخ على الفور عند الثاني الخ ولذا اجمعوا انه لو تراخي كان اداء ويأثم بموته قبله (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الحج ج٢ ص ١٨٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٥٥ و ٤٥٦). ظفير

([3]). هو الخ مرة الخ على الفور للعام الاول عند الثاني الخ على مسلم الخ مكلف الخ عما لابدمنه كما مر في الزكوة الخ (ردالمحتار كتاب الحج ج٢ ص ٢٨٩ ، ط. س. ج٢ ص ٤٥٦). ظفير

چی روپی ناکافی معلومیږی، نو دده اراده دپُل یا څاه جوړولو ده، په دی صورت کی څه حکم دی که روپی کافی نه وی نوائنده کال ته انتظار کول ضروری دی او که نه؟

جواب: که دامحقق سی چی درې سوه اوپنځوس روپی یی صرف دمکی معظمی دتګ راتګ اوهلته دحج تروختنه دقیام کولو دپاره کافی دی نوحج ورباندی فرض کیږی ځکه چی دحج دفرض کیدو دپاره دی مدینی منوری ته دتلو راتلو دمصرف لحاظ ونه سی او که دجهاز کرایه اودنورو له تحقیق څخه معلومه سی چی درې سوه اوپنځوس روپی صرف دمکی معظمی دتګ راتګ دپاره هم کافی نه دی نوبیا حج فرض نه دی، په دی صورت کی ددی روپو په دوهم دخیر کار لکه دکوهی جوړول وغیره کی مصرف کول صحیح دی اودحج دنه فرض کیدو په صورت کی دائنده کال انتظار لازم نه دی. ([1])

دیوسړی سره شپږ سوه روپی دی نوحج وکړی اوکه کور جوړ کړی؟ **سوال**: (۱۱) دیوسړی سره شپږ سوه روپی دی اودغه سړی ددری کلونو راهیسی دحج اراده کوی او ددغه شخص دلته دشریعت مطابق پرده غوندی ځای نسته اوکور یې هم داسی نه دی چی پرده وسی نودغه سړی په دی حالت کی څه وکړی کور جوړ کړی اوکه حج وکړی اودکور په جوړولو کی دروپو دمصرف کولو بیره هم ده؟

جواب: که په شپږ سوه روپو باندی دحج مصرف او داهل اوعیال مصرف تربیرته راتلو پوری کیږی نوحجورباندی فرض دی حج دی اداء کړی ([2]).

که ترمکی مکرمی پوری ورسره خرچه وی او دمدینی منوری نه وی نوحج وکړی اوکه نه؟

سوال: (۱۲) زما مور ژوندی ده اوزړه یی غواړی چی حج وکړی مور می وایی چی یاته زما سره ولاړسه اویا زما دمرګ څخه وروسته حج وکړه که زه ورسره ځم نوروپی دومره نه دی چی ترمدینی پوری دواړه باندی تلی سو نو ترمکی معظمی پوری تللی سو په دی صورت کی ماته څه کول په کاردی؟

جواب: که دومره روپی موجودی وی چی ترمکی مکرمی پوری دواړه تللی سی نوحج فرض دی ته دخپلی والدی سره ولاړ سه اوحج وکړه چی فرض دی اداء سی ([1]). فقط

([1]). علی مسلم الخ ذی زاد الخ وراحلة الخ فضلا عما لابد منه وفضلا عن نفقة عیاله الخ الی حین عوده الخ (الدر المختار) قوله ذی زاد افاد انه لایجب الا بملك الزاد وملك اجرة الراحلة (ردالمحتار کتاب الحج ج۲ ص ۱۹۳ وج۲ ص ۱۹۴ ، ط. س. ج۲ ص ۴۵۸ و۴۵۹) په سنه ۱۳۳۷ هـ ق کی دری دری نیم سوه روپی دحج دپاره کافی وی اودا دهغه زمانی فتوٰی ده. نن سبا کم ازکم دوه نیم زره روپی خرڅ کیږی والله اعلم. ظفیر. (او اوس په سنه ۱۴۲۹هـ ق کی کم ازکم یو لك پنځوس (۱۵۰۰۰۰) روپی خرڅ کیږی، والله أعلم. حقانی)

([2]). علی مسلم الخ ذی زاد الخ راحلة الخ وفضلا عن نفقة عیاله الخ الی حین عوده (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحج ج۲ ص ۱۹۳ ، ط. س. ج۲ ص ۴۵۸). ظفیر

حج مقدم دی اوکه دمسجد تعمیر؟ **سوال**: (۱۳\) زید دنصاب خاوند دی اودهغه جومات هم خراب دی نوحج اول وکړی اوکه نه دجومات تعمیر؟ اونیت یی ددواړو کړیدی او روپی یی دومره دی چی یوکار ورباندی کیدی سی.

جواب: حج فرض دی اول حج کول په کاردی له دی څخه وروسته که ګنجائش وی جومات دی هم ابادکړی دا دثواب کاردی ([2]). فقط

خاوند چی څه روپی ورکړی نوهغه دښځی دی، چی دحج دپاره کافی وی نوحج دی وکړی؟

سوال: (۱۴\) یوی ښځی ته یی زوی اوخاوند دمیاشتی دوی روپی ورکړی دی ښځی ډیری کمی مصرف کړی دی اونوری یی دحج دپاره جمع کړی دی اوس خاوند مړسو نو کمی روپی چی ښځی جمع کړی دحج دپاره نوهغه دښځی دی اوکه دهلك؟

جواب: کمی روپی چی ښځی ته ددی زوی اوخاوند ورکړی دی ښځه ددغو روپو مالکه سوه، که داروپی دومره وی چی حج ته دسفر دپاره کافی وی اوددی دمحرم خرڅ هم په دی روپو کی پوره کیږی نوپردی ښځی باندی حج فرض دی دخپل محرم سره حج ته تلل په کاردی ([3]). فقط

حج کله فرض کیږی؟ ښځه بغیر دمحرم څخه تللی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۵\) دښځی دمحرم څخه بغیر حج ته تلل سته اوکه ناجائز دی؟ پرښځه باندی حج کله فرض کیږی؟ او پرسړی باندی څه وخت؟

جواب: دښځی دپاره حج ته تلل دکم محرم یاخاوند څخه بغیر جائزنه دی اوپرښځی باندی هغه وخت حج فرض کیږی چی دهغه سره دومره روپی وی چی ددواړو مصرف پوره کړی ([4]) یعنی خپل مصرف اودښځی دا وباسی اوپر سړی باندی هغه وخت حج فرض دی چی دخپل خرڅ څخه علاوه دخپل اهل اودعیال دپاره دسفر دمودی پوره خرچه پریږدی اوکه څه قرض وی نوهغه دی ټوله اداء کړی ([5]).

([1]). فرض الخ علی حر الخ مکلف الخ ذی زاد الخ وراحلة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحج ج۲ ص ۱۹۴، ط. س. ج۲ ص ۴۵۵ و۴۵۷). ظفیر

([2]). فرض مقدم دی. هو فرض علی الفور فی العام الاول عند الثانی واصح الروایتین عن الامام ومالك واحمد فیفسق وترد شهادته بتاخیره الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحج ج۲ ص ۱۹۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۵۲). ظفیر

([3]). ویعتبر فی المرأة ان یکون لها محرم تحج به الخ ونفقة المحرم علیها لانها تتوسل به الی اداء الحج (هدایه کتاب الحج ج۱ ص ۲۱۵ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۴). ظفیر

([4]). ومنها المحرم للمراة شابیة کانت اوعجوزا اذاکان بینها وبین مکة مسیرة ثلاثة ایام الخ وتجب علیها النفقة والراحلة فی مالها للمحرم لحج بها (عالمګیری مصری کتاب المناسك باب اول ج۱ ص ۲۲۴). ظفیر

([5]). ومنها القدرة علی الزاد والراحلة ؒ وتفسیر ملك الزاد والراحلة ان یکون له مال فاضل عن حاجة وهو ما =

که ښځې دنامحرم سره حج اداء کي نوفرض يي ساقط سو اوکه نه؟ سوال: (١٦) ښځه دنا محرم سره ولاړه اوحج يي اداء کی نوفرض چي ددې په ذمه دی ساقط سو اوکه نه؟ او دښځې دنامحرم سره سفر کول ګناه ده اوکه نه؟

جواب: حج يي اداء سو اوفرض يي ساقط سو اودغير محرم سره په سفر باندی يي ګناه وسوه توبه اواستغفاردی وکړی په درمختار کی دی: ولوحَجَّت بلا محرم جاز مع الکراهة ([1]) الخ.

دمور دناراضتيا په حالت کی که حج ته ولاړسي نوڅه نقص خونسته؟ سوال: (١٧) يوسړی دخپلی مور نافرمانی وکړه اودمور دناراضتيا په حالت کی حج ته ولاړ، بيرته راغی او معافی يی ونه غوښتله، موريی مړه سوه نودده په حج کی څه فرق راځی اوکه نه؟

جواب: ددی سړی حج خواداء سو دايو مستقل عبادت دی چي په اداء کولو اداء کيږی ليکن دمور دناراضتيا ګناه يی په غاړه سوه، نواوس دهغه مکافات جلا څه کيدی سی بې له دی چي دتوبی او داستغفار څخه وروسته دی ورته ايصال ثواب وکړی، دمرګه وروسته داسی يوه ذريعه چی ورسره دمړی روح خوشحاله کيږی او ورته نفعه رسيږی همدغه ده ([2]). فقط

معالج دضرر په فکر دحج څخه منع کی نوڅه وکړی؟ سوال: (١٨) زيد دخپل استطاعت وغيره په خيال دحج داداء کولو دپاره تياردی ليکن له دينه دده ډاکتران چي اکثره دده مالکان دی دانظر ورکوی چي ددرياب سفر ورته ضرر لری دوهم داچی دملك زيات حضرات دابن مسعود نجدی دحکومت دوجه حج ته دنه تللو اجازه ورکوی داصحيح دی اوکه غلط؟

جواب: کم خلګ چي دابن سعود نجدی، دتسلط په وجه چي پرحرمينو يی لری حج ته دنه تللو رايه ښکاره کوی دادصواب دلاری څخه ليری دی اوپه سخته غلطه لاره دی دباری تعالی صريح حکم دی: ولله علی الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا ([3]). ددی خلاف

= سوی مسکنه ولبسه وخدمه واثاث بيتا قدرما يبلغه الله الی مکة ذاهبا وجائيا راکبا ، لا ماشيا وما سوی ما يقضی به ديونه ويمسك لنفقة عياله ومرمه ومسکنه ونحوه الی وقت انصرافه کذا في محيط السرخسی ويعتبر في نفقته ونفقة عياله الوسط من غير تبذير ولا تقتير کذا في التبيين (عالمګيری مصری کتاب المناسك باب اول ج١ ص ٢٠٣ ، ماجديه ج٢ ص ٢٥٧). ظفير

([1]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحج ج٢ ص ٢٠٠، ط. س. ج٢ ص ٤٦٥. ظفير

([2]). قديتصف بالحرمة کالحج بمال حرام وبالکراهة کالحج بلا اذن ممن يجب استيذانه (درمختار) قوله ممن يجب استيذانه کاحد ابويه المحتاج الی خدمة الخ (ردالمحتار کتاب الحج ط. س. ج٢ ص ٤٥٦). ظفير

([3]). ال عمران (١٠) . ظفير

ورزی کوی په چاچی حج فرض وی اودی تندرست وی اودسفر طاقت اوقدرت ولری هغه ته حج ته تلل په کاردی اوکه کم طبیب مشوره ورکوی چی ددریاب دلاری سفر کول ورته ضرر لری نوفرضی حج دی نه پریږدی (١). فقط

که څوک زکات وباسی دهغه حج ته تلل څنګه دی؟ سوال: (١٩) چی دنصاب مالك وی لیکن زکات نه ورکوی خوحج ته تیاردی دهغه حج ته تلل څنګه دی؟

جواب: که یوسړی یوفرض اداء نه کړی اوبل فرض اداء کوی هغه به اداء سی اوکم فرض چی یی نه دی اداء کړی دهغه به یی ګناه سوی وی نوپه دی بناء باندی دده حج اداء سو. فقط

دشاه ابن سعود په حومت کی حج صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (٢٠) دسلطان ابن مسعود دتسلط څخه وروسته دحجاز په مځکه کی پوره امن اوامان دی چی تصدیق یی سږکال حاجیانو کړیدی لیکن بعض حضرات دسعود دګنبدو نړولو اودحجاز دملوکیت داعلان په بناء ترهغه وخته پوری دحج کولو دالتواء مشوره ورکوی چی ترڅو دحجاز څخه دابن سعود حکومت وتلی نه وی اونړیدلی ګنبدی بیرته تعمیر سوی نه وی، دغه مشوره شرعًا صحیح ده اوکه نه ده؟ په دوهم صورت کی هغه مستطیع حضرات چی حجورباندی فرض سوی دی صرف ددغه مشوری په منلو حج پریږدی، اوکه ددی توقف په حالت کی الله ﷻ مه کړه مړ سو نوعندالله به ماخوذ وی اوکه نه؟

جواب: دمانعین حج دغه مشوره صحیح نه ده اودغه رکم مشوره ورکوونکی عاصی دی دحج دفریضی التواء په دی صورت کی جائز نه ده اوپر کمو خلګو چی حج فرض سویدی که هغه سړی دحج څخه یا دوصیت بالحج څخه مړسی نوعند الله ماخوذ دی او ددغه وعید مستحق دی چی په حدیث پاك کی وارد دی چی پرچا حج فرض سی اوحج اداء نه کړی اوهغه مړسی نوکه هغه یهودی مړ کیږی اوکه نصرانی دالله ﷻ څه پروا نسته باندی (٢). والعیاذ بالله تعالی ذکره.

دملازمت په حالت کی دحج دوجوب څخه مخکی یو سړی حج کوی آیا هغه به داستطاعت څخه وروسته دوباره حج کوی؟ سوال: (٢١) یو سړی ملازم وو ، او حج یی وکی څو کاله

---

(١). الحج واجب علی الأحرار البالغین العقلاء الأصحاء إذا قدروا علی الزاد والراحلة فاضلا عن المسکن وما لا بد منه وعن نفقة عیاله إلی حین عوده وکان الطریق آمنا بالوجوب وهو فریضة محکمة ثبتت فرضیته بالکتاب وهو قوله تعالی: {ولله علی الناس حج البیت} [آل عمران: ٩٧] الآیة (هدایه کتاب الحج ج١ ص ٢١٣). ظفیر

(٢). عن علی قال رسول الله ﷺ من ملك زاداً وراحلة تبلغه الی بیت الله ولم یحج فلا علیه ان یموت یهودیا او نصرانیًا الحدیث (مشکوٰة کتاب الحج فصل ثانی ج٢ ص ٢٢٢). ظفیر

وروسته دنصاب مالك سو نوپه ده باندي دوباره حج فرض سو اوكه نه؟
جواب: په ده باندي دوباره حج فرض نه دي اوفرضي حج يې اداء سو. درمختار [1]. فقط

كه دكفارو او دمشركانو تراثر لاندي دحجاز والي وي نو آيا حج جائز دي اوكه نه؟ سوال: (۲۲\) ترخو چي په كعبه اوپه جزيرة العرب باندي دكفارو اودمشركانو اثروي اوهغوى حسب الاشاره دهغه ځاى حكومت كوي نوآيا په دي حالت كي حج جائزدي؟
جواب: په مذكوره صورت سره حج فرض دي نوپه كمو خلګو چي حج فرض دي په هغوى باندي حج ضروري دي. قال الله تعالى: ولله على الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا.([2])

كه مستطيع فوراً حج ونه كړي نوګنهګاريږي اوكه نه؟ سوال: (۲۳\) يوسړى دحج دسفر توښه لري اوپه زړه كي صادقه اراده لري مګر دزماني په ګردش باندي تاخير ورڅخه كيږي دروايت په موجب باندي دي فوراً ګنهګاريږي، اولاندي وجوه يې دګناه څخه دبچ كيدو سبب ګرځي اوكه نه؟ كه دعمر په اخركي يې اداء كړي فبها. اوكه مړسو فرض ورنه ساقط سوه اوكه نه؟ او ضعيفه وجه داصح په مقابل كي ده، او يوه قوي ده ، ضعيفه وجه دامام محمد عليه الرحمة قول دي: انه على التراخي شامي باب الحج ص ۲۲۲. داوجه دپاره درفع دګناه ده نه دسقوط دفرض، بله وجه ضعيفه قول دصاحب دقيل دي: واختلف في سقوطه اذا لم يكن بد من ركوب البحر فقيل يسقط وقال الكرماني ان كان الغالب فيه السلامة من موضع جرت العادة بركوبه يجب والا فلا وهو الاصح، شامي باب حج ۳۳۳. قوي وجه په ركوب دبحر كي په سبب دسر ګرځيدو اواستفراق (قي وهل) چي حجاجو ته په سفر كي واقع كيږي اولمونځونه قضاء كيږي نوپه لاندي روايت حج ځيني ساقطيږي ياكم ازكم رافع دګناه دتاخير دي . ذكر صاحب اللباب ان منها اى من الشرائط ان يتمكن من اداء المكتوبات في اوقاتها قال الكرماني لانه لايليق بالحكمة. اوكله چي رايه دجناب مطابق سي نو فبها ، اوكه نه نوپه قطعي دلائلو يې ترديد وكړي؟
جواب: دتاخير ګناه دحج اداء كول قبل الموت ساقطوي. لاغير ولذا اجمعوا انه لو تراخى كان اداءً (درمختار) ويسقط عنه الاثم شامي ([3]). اوكله چي ركوب دبحر اولاً وجه دضعف وويل سي چي په حقيقت كي ضعيف دي اوخلاف الاصح دي نوهر هغه څه چي په بحر

([1]). هو الخ فرض الحج مرة لان سبب البيت وهو واحد والزيادة تطوع (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب ج۲ ص ۱۹۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۵۵ و۴۵۶). ظفير
([2]). ردالمحتار كتاب الحج ج۲ ص ۱۹۲ ج۲ ص ۴۵۷. ظفير
([3]). آل عمران : ۹۷ .

دسپریدو دوجه دسر ګرځیدل راځی اوداسی نور چی دلوازمو درکوب البحر څخه دی ځنګه به قوی وجه سی. وفی الدر المختار والعبرة لوجوبها ای العدة المانعة من سفرها وقت خروج اهل بلدها وكذا سائر الشروط (۱). اوددی شرطونو څخه دی هغه چی شارح دلباب نقل کړی دی: ان منها ان يتمكن من اداء المكتوبات الخ (۲). نودښار څخه دوتلو په وخت ښکاره ده چی دمکتوباتو لپاره متمکنه ده اوضرورت درکوب بحر وما يتوقف عليه مانع عن الفرضية نه دی نودی وجه ته مسقط دفرضیت ویل اوټول هغه کسان چی رکوب البحر ورته ضروری وی داسلام حج ته ساقط ویل دفقیه کار نه دی اوباید پوه سو چی هغه ځوك چی رکوب البحر ته دفرضیت مانع وایی په همدی وجه یی دسرګرځیدو او نوریی ویلی دی نودغه دوران وغیره ته وجه مستقل ویل نښایی، اوکله چی هغه وجه معتبره نه ده دابه هم معتبره نسی. فقط

په خلافت کی دجګړی دوجه څخه حج مه پریږدی: سوال: (۲۴\) سږ کال زه حج ته دتللو اراده لرم مګر دخلافت په باره کی چی کمی جګړی پیدا سوی دی زماپه زړه کی داسی خطره پیدا سویده چی شاید دارکان حج په اداء کولو کی څه نقصان یا فتور واقع سی او زما صعوبت اودلاری مصرف به عبث کارسی، آیا دخلافت مسئله دحج سره کم قسم تعلق لری اوکه نه؟ اودخلیفه په عدم موجودګی کی حج صحیح دی اوکه نه؟

جواب: په حج کی په دی باندی څه خلل اونقصان نه راځی تاسی په شوق سره دحج بیت الله اراده وکړی اودحرمینو شریفینو په زیارت مشرف سی (۳).

دشریف په قبضه کی دمکی دراتللو په وجه دحج په فرضیت کی فرق نه راځی: سوال: (۲۵\) دپنجاب علماء دبیت الله شریفی دحج په باره کی وایی چی نن سبا حج په دی وجه چی هغه مقام دشریف په قبضه کی دی ناجائزدی آیا داصحیح دی؟ ځکه چی زما خور او ورور سږ کال دحج اراده لری؟

جواب: دبیت الله شریفی حج پرهغو کسانو فرض دی چی طاقت یی لری داصحیح نه ده چی ځوك ووایی اوس په مذکوره وجه حج فرض نه دی هغوی ته بی فکره دحج اراده کول په کاردی (۴).

---

(۱). الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الحج ج۲ ص ۲۰۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۶۵. ظفیر

(۲).ردالمحتار كتاب الحج ۲۰۰. ظفیر

(۳). هوفرض مرة على الفور بشرط حرية وبلوغ الخ وامن طريق (كنز) وحقيقة امن الطريق ان يكون الغالب فيه السلامة (البحر الرائق كتاب الحج ج۲ ص ۳۳۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۰۹). ظفیر

(۴). هوفرض الخ مرة الخ على مسلم الخ حر مكلف الخ زاد ﷺ وراحلة الخ فضلا عما لابدمنه (الدرالمختار على =

ښځه دخاوند داجازې بغير حج کولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۶\) ښځه دخاوند داجازې څخه بغير حج کولی سی اوکه نه؟

جواب: فرضی حج کولی سی. فقط (۱)

دشريف دمکی په زمانه کی حج ساقط نه دی: **سوال**: (۲۷\) اعتراض کيږی چی خانه کعبه دغير مسلمو په سيادت کی ده هغه اوس دار الامن نه دی که څه هم په ښکاره دمذهبی رسوماتو اداء کولو څه مزاحمت نسته نوپه دی حالت کی حج ساقط دی اوکه نه؟

جواب: ترڅو چی دحج ممانعت نه وی اودحج دارکانو څخه مانع نه وی اولاره مامون وی نودزاد اودراحلی داستطاعت په صورت کی حج کول فرض دی نوپه مذکوره وجه حج ساقط نه دی. (۲)

آيا دحج په کولو کی دخليفه موجودګی ضروری ده؟ **سوال**: (۲۸\) دحج داداء کولو دپاره دخليفه موجودګی ضروری ده اوکه نه؟ دخليفه ترتقرره پوری به حج بندوی اوکه نه؟

جواب: حج هيڅکله نسی بنديدلی اودحج فرضيت دخليفه په موجودګی پوری نه دی تړل سوی. قال الله تعالی ولله علی الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا. (۳) نوداستطاعت دسبيل او استطاعت دزاد او دراحلی څخه حج فرض کيږی اوکم شروط چی فقهاوو ليکلی دی لکه امن دلاری وغيره هغه هم په استطاعت دسبيل کی داخل دی.

دبی پردګی دبيری حج ته ممنوع ويل غلط دی: **سوال**: (۲۹\) يوسړی دخپلی ښځی سره چی حج باندی فرض دی حج تلل غواړی ليکن يو مولوی صاحب هغه ته دارايه ورکړيده چی چونکی په ريل اوجهاد کی دمستوراتو بی پرده ګی کيږی ددی دپاره هغوی دځان سره مه بوځئ بلکی دی فتوٰی ورکولو ته تياردی چی دمستوراتو دخپل محرم سره حج ته تلل دبی پردګی په وجه شرعًا ممنوع دی؟

جواب: کله چی پرکمی ښځی حج فرض سی اومحرم ياخاوند تلونکی موجودوی اوورسره ځی نوددغی ښځی حج ته تلل فرض دی، دکم صاحب فتوٰی ورکول چی مستورات په جهاز اوريل کی بی پردی کيږی نو ځکه دمحرم سره تلل يی ممنوع دی دا بالکل غلط

= هامش ردالمحتار کتاب الحج ج۲ ص ۱۹۲ ، ط. س. ج۲ ص ۳۰۹. ظفير

(۱). ولا طاعة لمخلوق فی معصية الخالق (الحديث) وليس لزوجها منعها عن حجة الاسلام (الدر المختار علی هامش ردالمحتارکتاب الحج ج۲ ص ۲۰۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۶۵). ظفير

(۲). هو فرض مرة علی الفور بشرط حرية وبلوغ الخ وامن طريق (کنز) وحقيقة امن الطريق ان يکون الغالب فيه السلامة (البحرالرائق کتاب الحج ج۲ ص ۳۳۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۰۹). ظفير

(۳). ال عمران ۹۷. ظفير

دی په مستوراتو باندی په پورتنی صورت کی ضرور حج فرض دی اودمحرم سره کیدل یی کافی دی اوترڅو چی برقعه وی نوبی پردګی هیڅ ده داخیال دبی پردګی غلط دی درسول الله ﷺ دزمانی څخه تراوسه همداسی کیږی که ددغه سړی دمانع خیال صحیح وی نوپه هیڅ زمانه کی به دښځو حج نه وای غرض داچی ددغه سړی قول اعتبار نه لری او دخپلی ښځی سره چی حج باندی فرض دی ضرور ولاړ سی. ([1])

که دپلار په مال یی حج کړی وی آیا پرهغه باندی دوباره حج فرض دی؟ سوال: (۳۰/) یوسړی دپلار په مال دپلار په موجودګی حج وکړی، بیا دپلار دوفات څخه وروسته دا سړی دمال مالك اوپر زاد اودراحلی باندی قادرسو نوپه ده باندی حج فرض دی اوکه نه؟

جواب: که اول حج یی دبلوغ څخه وروسته کړی وی نوحج یی اداسو اودوباره حج فرض نه دی، په درمختارکی دی: فلو جدد الصبی الاحرام قبل وقوفه بعرفة ونوی حجة الاسلام اجزاه الخ، وفی ردالمحتار ولو احرم الصبی والمجنون والکافر ثم بلغ اوافاق ووقت الحج باق فان جددوا الاحرام یخرجهم عن حجة الاسلام الخ. ([2]) فقط

دزکات په روپو حج کول درست دی اوکه نه؟ سوال: (۳۱/) زید دحج کولو استطاعت نه لری بکر دخپل دزکات دمال څخه ورسره کومك وکی آیا حج یی جائز سو اوکه نه؟

جواب: حج یی اداسو. ([3]) فقط

دچا هلک چی مراهق وی هغه حج کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۲/) دیوسړی دوی زامن مراهق دی، دواړه میاشتنی نوکران دی او یویی ورور دی آیا دغه سړی ددغه هلکانو فرورش وکړی اوکه کاکا ته یی وسپاری حج کولی سی ځکه چی یومعذور سړی دځان سره حج ته بیول غواړی؟

جواب: ددغه سړی حج ته تلل صحیح دی ځکه چی اولادیی ورته محتاج نه دی اودهغوی نګرانی دی دهغوی کاکاته وروسپاری. ([4]) فقط

([1]). ومع زوج اومحرم الخ لامرة حرة ولو عجوزا فی سفر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الحج ج۲ ص ۲۹۸ ، ط. س. ج۲ ص ۴۶۴). ظفیر

([2]). وګوری ردالمحتار باب الحج ج۲ ص ۲۰۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۲. ظفیر

([3]). وکره الاغناء وندب الاغناء عن السوال (کنز) ای کره ان یدفع الی فقیر ما یصیر به غنیا وندب الاغناء عن سوال الناس (البحر الرائق باب المصرف ج۲ ص۲۲۸) او زکاة ورکوونکی چی کله ورکی او هغه حج ادا کی نو ددی په صحیح کیدو کی څه اشکال سته، والله اعلم ، کذا لو تصدق به علیه ؒ ما لا یحج به لا یجب علیه القبول عندنا ؒ فان قبل المال وجب (المسك المتقسط ص ۱۲). ظفیر صدیقی

([4]). وفضلا عن نفقة عیاله ممن تلزمه نفقته لتقدم حق العبد الی حین عوده (الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الحج ج۲ ص ۲۹۸ ، ط. س. ج۲ ص ۴۶۲). ظفیر

دحج دفرضيت په صورت کې دوالدينو بې اجازې تللې سي اوکه نه؟ **سوال**: (۳۳) چې حج فرض نه وي نو دوالدينو بې اجازې تلل جائزدي اوکه نه؟

جواب: که دوالدينو ورته دخدمت ضرورت وي نو جائزنه دي. (1) فقط

چې په غربت کې يې حج کړی وي نو آيا دمالداره کيدو څخه وروسته دوباره ورباندې حج فرض دی؟ **سوال**: (۳۴) يوغريب سړی چې حج ورباندې فرض نه دی هغه په يوه طريقه مکې مکرمې ته ورسيدی اوحج يې وکی دبيرته راتللوڅخه وروسته غني سونوپرده باندې دوباره حج فرض دی اوکه نه دغه نفلي حج ورته کافي دی؟

جواب: په دې صورت کې ددې سړي دذمې څخه فرض دحج اداء سوی دی. کمافي الشامي بخلاف ما لوخرج ليحج عن نفسه وهو فقير فانه عند وصوله الى الميقات صار قادرا لقدرة نفسه فيجب عليه (2) الخ وفيه ايضا الافاقي اذا وصل الى ميقات فهو كالمكي الخ (3). فقط

دغير محرم سره حج کول دښځې دپاره درست نه دي: **سوال**: (۳۵) يوه ښځه دضعيف خاوند په اجازه يوائې يا دبل سړي سره حج ته تللې سي اوکه نه؟

جواب: داجنبي خلګو سره دښځې سفر کول صحيح نه دي بلکې ضرور بايد خاوند يابل محرم ورسره وي. (4)

ديتيمانو او فقيرانو دطرفه په روپو ورکولو سره حج نه اداء کيږي: **سوال**: (۳٦) زيد د ۵۵ کالو عمر ضعيف القوي سړی دی ليکن دمالداري دوجه ورباندې حج فرض دی دسفر دتکليفونو او دخپل قوت دکمزوري په وجه چې دعمر او دمرض په لحاظ ضعيف دی دحج په سفر کولو کې دځان خطره ويني دحج دفريضې په اداء کولوکې يې يومعقول او مناسب رقم ديتيمانو اودکونډو ياپه اسلامي مدرسوکې مصرف کړي دی دغه فرض ادا

---

(1). ويتصف بالحرمة كالحج بمال حرام بالكراهة كالحج بلا اذن ممن يجب استيذانه (درمختار) كاحد ابويه المختار الى خدمته والاجداد ⁂ فيكره خروجه بلا اذنهم كما في الفتح وظاهره ان الكراهة تحريمية ⁂ قال في البحر وهذا كله في حج الفرض اما حج النفل فطاعة الوالدين اولى مطلقا (ردالمحتار مطلب فيمن حج بمال حرام ج۲ ص ۱۹۱ ، ط. س. ج۲ ص ۴۵۲). ظفير

(2). ردالمحتار باب الحج عن الغير مطلب في حج الضرورة ج۲ ص ۳۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۳. ظفير

(3). ردالمحتار كتاب الحج ج۲ ص ۱۹۵ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۰. ظفير

(4). ومع زوج اومحرم ولو عبدا الخ بالغ الخ عاقل والمراهن كبالغ غير مجوسي ولا فاسق لعدم حفظهما مع وجوب النفقة لمحرمها عليها لانه محبوس عليها لامراة حرة ولو عجزا في سفر الخ وليس عبدها بمحرم لها وليس لزوجها منعها عن حجة الاسلام ولو كان بلا محرم جاز مع الكراهة (درمختار) اى التحريمية للنهي في حديث الصحيحين ⁂ (ردالمحتار كتاب الحج ج۲ ص ۱۹۹ – ۲۰۰ ، ط. س. ج۲ ص ۴۶۲). ظفير

كول غواړي ايا دده دغه فعل دحج په فريضه كې شمارل كيږي اوكه نه؟
دوهم شكل دادی چې كه ددغی سرمايه څخه حج بدل وكړي، نوكه څوك دحج بدل په واسطه ولاړسی نودهغه دپاره څه شرطونه دي؟

جواب: يتيمانو اوفقيرانو ته په وركولو سره يې دحج فريضه دغاړي څخه نه ساقطيږي، البته دوهم صورت دحج بدل كيدی سی اوښه داده چې حج بدل دی په هغه چا وكړي چې مخكې يې حج كړي وي اوكه نه مكروه دی كه څه هم حج يې اداء كيږي. كذا في الشامي. (١) فقط

دغلطی افواه سره دحج فرضيت نه ساقطيږي: **سوال**: (٣٧) يوڅو كسان چې حج وربانديی فرض دی سږ كال يې دحج بيت الله اراده وكړه چې داخبره مشهوره سوه چې شريف دمكې دحاجيانو څخه بالجبر بيعت اخلي چې زه امير المومنين يم سږ كال زموږ حج ته تلل او دشريف سره بيعت كول څنګه دي؟

جواب: په دی ډول خبرونو سره دحج فرضيت نه ساقطيږي لهذا پركمو خلګو چې فرض دي هغوی ته حج كول په كاردی اودشريفِ مكه سره بيعت كول صحيح نه دی (٢). فقط

دكوچنی بی ماله انجلی پريښوول اوحج ته تلل څنګه دي؟ **سوال**: (٣٨) يوسړي دحج اراده كړې ليكن دهغه يوه انجلی كم عمره ده چې مال نه لري يعنی دپلار څخه بغير نسی اوسيدی البته دانجلی كاكا موجود دی كه انجلی دهغه سره پريږدی او ولاړ سی نوڅه ګناه خوبه نه وی؟

جواب: ددی وجه فرضی حج نسی پريښوولی دپلار دتللو څخه وروسته دانجلی ولی يا كاكا موجود دی هغه دی پرورش وكړي البته دانجلی نفقه دی پلار وركړي. فقط

دمحرم څخه بغير دښځی حج كول څنګه دي؟ **سوال**: (٣٩) يوه ښځه چې په هيڅ ډول دفتنی محل نه ده، ثقه هم ده اوكم محرم يې نسته ددې يوسړي چې په ښكاره ديندار دی دځان سره بوتلل غواړي چې په سفركی ورسره مرسته وكړي په دی صورت كې دغه سړی ددې سره يوځای سفر كولی سی اوكه نه؟

---

(١). العبادة المالية تقبل النيابة من المكلف مطلقا ... والبدنية كصلاة وصوم لا تقبلها مطلقا، والمركبة منهما كحج الفرض تقبل النيابة عند العجز إلى الموت لانه فرض العمر حتى تلزم الاعادة بزوال العذر و بشرط نية الحج عنه ... لكنه يشترط لصحة النيابة أهلية المأمور لصحة الافعال ... فجاز حج ... وبشرط امر به ورثته ... وغيرهم أولى (الدر المختار على هامش رد المحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٣١ – ٣٣٢، ط. س. ج٢ ص ٥٩٧). ظ

(٢). هو فرض مرة على الفور بشرط حرية وبلوغ وعقل وصحة وقدرة زاد وراحلة فضلت عن مسكنه عن لابد منه نفقة ذهابه وايابه وعياله وامن طريق (كنز) وحقيقة امن الطريق ان يكون الغالب فيه السلامة كما اختاره الفقيه ابو الليث رحمه الله وعليه الاعتماد (البحر الرائق كتاب الحج ج٢ ص ٢٣٨، ط. س. ج٢ ص ٣٠٩). ظفير

جواب: دفقهی درروایت څخه جواز دبعضو مشائخو څخه په بعض معتبراتوکی موجود دی. قال الشامی من الحظر والاباحة فصل البیع وفیه اشارة الی ان الحرة لا تسافر ثلاثة ایام بلا محرم واختلف فیما دون الثلاثة وقیل انها تسافر مع الصالحین والصبي والمعتوه غیر محرمین کما فی المحیط قهستانی، ([1]) اوپه فصل دحداد کی داعبارت هم قابل دلحاظ دی: قال فی الدر المختار ولابد من سترة بینهما فی البائن لئلا یختلی بالاجنبیة ویمکن ان یقال فی الاجنبیة کذالك وان لم تکن معتدته الا ان یوجد نقل بخلافه. بحر ([2]) اوبعض وقائع په صدر اول کی مثلا مهاجرت دحضرت زینب رضی الله عنها دزید بن حارثه او رجل من الانصار سره دمکی مکرمی څخه مدینی منوری ته او ددی په شان نور هم قابل دلحاظ دی او واقعی داده چی په وقائعو کی دیو نوع اجتهاد څخه کار اخستل کیږی. قال فی الفتح من الخلع والحق ان علی المفتی ان ینظر فی خصوص الوقائع ([3]). والله تعالی اعلم. کتبه محمد انور عفا الله عنه

په عده کی دننه دحج سفر جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۴۰\۱) دهندی خاوند مړسو عده یی نه ده پوره سوی آیا هنده په ورځو دعدی کی دحج دفریضی داداء کولو دپاره تللی سی او که نه؟

جواب: دعدی په ورځو کی هنده دحج سفرنه سی کولی. کذا فی الدرالمختار ([4]).

کونډه بغیر دسړی څخه حج ته تللی سی اوکه نه؟ سوال: (۴۱\۱) یوه ښځه چی عمر یی ۲۴ کاله دی اوهغه کونډه ده اراده دحج لری دیو غیر سړی سره تللی سی اوکه نه؟

جواب: بدون دمحرم څخه ښځی ته سفر کول صحیح نه دی اوپه دی حالت کی حج وربانذی فرض نه دی ([5]). فقط

پنځه سوه روپی یی وویلی، په قبضه کی یی رانه وړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۴۲\۱) دزید پلار دومره روپی پریښوولی چی دحج دکولو قابل وی خوزید دپلار دمرګ په وخت

([1]). ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ج۵ ص ۳۴۳. ظفیر

([2]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی الحداد ج۲ ص ۸۵۵. ظفیر

([3]). ردالمحتار فصل فی الحداد ج۲ ص ۸۵۲. ظفیر

([4]). ومع زوج اومحرم الخ مع وجوب النفقة لمحرمها علیها لامراة حرة ولوعجزا فی سفر الخ ومع عدم عدة علیها مطلقا اية عدة کانت (درمختار) فلایجب علیها احج اذا وجدت (ای العدة) قوله ای عدة کانت ای سواء کانت عدة وفات اوطلاق بائن اورجعی (ردالمحتار کتاب الحج ج۲ ص ۱۹۸ – ۱۹۹) ولاتخرج معتدة رجعی اوبائن الخ عن بیتها الصلا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی الحداد ج۲ ص ۸۵۲). ظفیر

([5]). هوفرض مرة علی الفور بشرط حرية الخ ومحرم او زوج لامرأة في سفر (کنز) لما في الصحیحین لاتسافر امرأة الا ومعها محرم وزاد مسلم في رواية او زوج وروی البزاز لا تحج امرأة الا ومعها محرم الخ او اشار المصنف الی ان امن الطریق والمحرم من شرائط الوجوب (البحر الرائق کتاب الحج ج۲ ص ۲۳۸ ، ط. س. ج۲ ص ۳۰۹). ظ

موجود نه وو، بلکی دهغه زوی عمر ؤ دهغه څخه يې يونيم زر روپۍ پټې کړې وې او مصرف يې کړې وروسته په مرض الموت کې دعمر نيکه پنځه سوه روپۍ دادا دپاره وروښوولې چې دفلانی ځای څخه يې واخله، نواوس ووايا ست چې دغه پنځه سوه روپۍ دعمر ملکيت سو، اوحج ورباندې فرض دی اوکه نه؟

دمرض الموت په وخت دهبې دپاره څه شرط دی؟ سوال: (۱۲\۴۳) دبهشتی زيور په پنځمه برخه کې چې په مرض الموت کې دهبې په ثلث کې قبض شرط دی. ته فرض کړه چې دزيد دوالد سره ټولې دوه زره روپۍ وې چې دهغه څخه يې پنځه سوه روپۍ هغه عمر ته وويل مګر قبض يې نه کړی نودی ددی روپو مالك سو اوکه نه؟ اوحج فرض سو اوکه نه؟

لمسی چې کمې روپۍ پټې کړې دادټولو ورثه وو حق دی: سوال: (۱۳\۴۴) زيد چې کله مړ سو دهغه دوارث دوې لونې اويو زوی پاته سول چې عمر دده څوی دی هغه دغه پنځه سوه روپۍ چې نيکه يې ورکړې وې خوړې او يونيم زر روپۍ چې دبابا څخه يې پټې کړې وې په دی کې څلور سوه روپۍ باقي دی نوآيا دغه څلور سره روپۍ دعمرو ملکيت ګڼل کيږی اوکه نه په ټولو ورثه وو باندې به خپلی خپلی حصې تقسيمږی اوپه دی کې چې دهغه حصه ده که دحج قابل وی نوحج ورباندې فرض دی اوکه نه؟

که دکور مالک وی نوحج ورباندی فرض کيږی اوکه نه؟ سوال: (۱۴\ ۴۵۰) ديوسړی سره لاندی ځای دحاجت څخه ماسوا دی مګر لوړ يې چې کم ځای دی په هغه کې هغه پخپله اوسيږی نوپه ده باندی حج فرض دی اوکه نه؟

دجائيدا په وجه حج فرض کيږی اوکه نه؟ سوال: (۱۵\۴۶) يوسړی په څه ګټه وټه سره خپل وخت په ګذاری سره تيروی اوجائداد هم لری چې هغه يې دګذاری دپاره کافی نه دی او په هغه باندی مدارهم دی ليکن جائيداد يې په داسې اندازه قيمت لری که خرڅ يې کړ نوحج باندی کيږی نوپر ده باندی حج سته اوکه نه؟

په هبه کی روپۍ ورته ورکول سوی حج فرض دی اوکه نه؟ سوال: (۱۶\ ۴۷) کم سړی چې يو عزيز غير وارث ته بی له اجازې دورثه وو څخه دومره روپۍ ورکړی چې دحج دپاره کافی دی نوپه ده باندی حج فرض دی؟

دحج دزمانی څخه مخکی روپۍ وی وروسته يی قرض ورکړی اوبيا وصول نه سوی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۷\۴۸) که ديوه سړی سره دصفری په مياشتی کی دومره روپۍ وی چې حج ته باندی تللی سی خوپه ربيع الثانی کی يوچا ته قرض ورکړی اوتراوسه يی وصول کړی نه دی نوپه دغه سړی باندی حج فرض دی اوکه نه مولانا حسين احمد صاحب مهاجر

مدنی رحمہ اللہ فرمائیلی دی ([1]) چی حج فرض دی کله چی په هغه میاشت کی وی چی دحج په سفر دتللو زمانه وی په اوسنی دورکی شرائط بدل سویدی، په تجربه باندی ددی ځای دخلګو تلل دشوال په میاشت کی وی؟

جواب: ۱\: ددغه پنځه سوه روپی هم عمر مالك نه دی ([2]) نوددغه روپو په وجه هم حج فرض نه دی.

۲\: دحضرت مولانا اشرف علی صاحب رحمہ اللہ چی کم نظر دی دبنده په نزد صحیح دی.

۳\: له ټولو دوو زرو څخه عمر ته حصه ورسیده مګر څلور سوه روپی چی سته هغه دی ټولی نورو ورثه وو ته ورکړی او دده سره چی څه پاته نه سول نوحج فرض نه دی.

۴\: داصحیح ده چی پرعمر باندی حج نه دی فرض. ومنه المسکن ومر منه ولو کبیراً یمکنه الاستغناء ببعضه والحج بالفاضل فانه لا یلزمه بیع الزائد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص ۱۹۲).

۵\: که جائیداد دوخت تیریدو څخه زیات نه وی نوحجورباندی نسته اوخرخول ورته ضروری نه دی، وجه داده چی دبل دملك څخه وخت تیرول شرعاً معتبر نه دی دخپل امدنی لحاظ دی وکړی ([3]).

۶\: که روپی دثلث څخه زیاتی نه وی نوحج به فرض وی.

۷\: مولانا صاحب چی په دی باره کی څه فرمایلی دی صحیح دی.

دوالدینو درضا څخه بغیر نفلی حج کول څنګه دی؟ سوال: (۴۹\) دنفلی حج دپاره تلل بغیر دوالدینو درضا جائزدی اوکه ناجائز؟

جواب: نفلی حج باید دوالدینو درضا څخه بغیر ونه سی. فی الدر المختار قد یتصف بالحرمة کالحج بمال حرام وبالکراهة کالحج بلا اذن ممن یجب استیذانه الخ قال الشامی ج۲ ص ۲۴۵) اما حج النفل فطاعة الوالدین اولی مطلقا کما صرح به فی الملتقط. (ج۲ ص ۱۹۱ علی هامش ردالمحتار).

دحج دفریضی په اداء کولو کی تاخیر جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۵۰\) که په چا باندی حج فرض سوی وی نو په اداء کولو کی یی تاخیر کول جائز دی او که نه؟ او که والدین دحج

([1]). مراد ځینی حضرت شیخ الاسلام مولانا سید حسین احمد مدنی قدس سره سابق صدر المدرسین او ددیوبند شیخ الحدیث دی. ظفیر

([2]). ځکه چی داهبه ده دکمی دپاره چی قبض کول شرط دی. ظفیر

([3]). وَإِنْ كَانَ صَاحِبَ ضَيْعَةٍ إِنْ كَانَ لَهُ مِنَ الضِّيَاعِ مَا لَوْ بَاعَ مِقْدَارَ مَا يَكْفِي الزَّادَ وَالرَّاحِلَةَ ذَاهِبًا وَجَائِيًا وَنَفَقَةَ عِيَالِهِ ، وَأَوْلَادِهِ وَيَبْقَى لَهُ مِنَ الضَّيْعَةِ قَدْرُ مَا يَعِيشُ بِغَلَّةِ الْبَاقِي يُفْتَرَضُ عَلَيْهِ الْحَجُّ ، وَإِلَّا فَلَا (عالمگیری ط. س. ج۲ ص ۲۱۸. ظفیر

دسفر څخه مانع سی نودهغوی دوجه څخه یی وروسته کول جائزدی اوکه نه؟
جواب: دحج دفرض کیدو په صورت کی باید تاخیر ونه سی.
که والدین یی منع کوی نوهم ولاړدی سی، البته که والدین یی دخدمت محتاج وی دی سړی ته اوبل څوك خادم نه وی نوبیا دی وروسته کړی. قال فی الدر المختار وقدیتصف بالحرمة كالحج بمال حرام وبالكراهة بلا اذن ممن یجب استیذانه، قال الشامی کاحد ابویه المحتاج الی خدمة الخ، شامی ج۲ ص ۱۹۱. وقال فی الدر المختار، فرض مرة علی الفور فی العام الاول عند الثانی واصح الروایتین عن الامام الخ، درمختار مختصراً ج۲ ص ۱۹۱ علی هامش ردالمحتار).

دمهر قرض مقدم دی اوکه حج؟ سوال: (۵۱\) که په چا باندی حج فرض سوی وی اوښځه یی مانع سی او ورته وایی چی مهر اداء کړه، په دی صورت کی دده په نزد دمهر داداء کولو دپاره ددی مال څخه بغیر نور مال نسته، نوپه دغه سړی باندی دحج فریضه ادا کول لازم دی اوکه نه دښځی مهر؟
جواب: دحج دفرضیت په صورت کی چی ښځه مانع سی اومهر غواړی. نودمهر اداء کول لازم دی مهر دی اداء کړی اوحج دی مؤخر کړی. (١)

ښځه که دمحرم سره حج ته تلل وغواړی نوخاوند یی را ګرځولی سی اوکه نه؟ سوال: (۵۲\)
یوه ښځه دحج دپاره دخپلی ترور لور، ورور اویا خاله اودخور سره یادنورو ښځو سره که حج ته تلل غواړی اوخاوند یی راګرځوی، نوشرعًا یی خاوند منع کولی سی اوکه نه؟
جواب: که په ښځی باندی حج فرض سی نوخاوند یی دحج څخه نسی منع کولی که میړه ورسره ولاړنه سی نودبل محرم سره حج کولی سی اوبی دمحرم څخه تلل مکروه تحریمی دی. کما قال فی الدرالمختار لیس لزوجها منعها عن حجة الاسلام ولو حجت بلامحرم جاز مع الکراهة الخ التحریمیة الخ شامی (٢). اودترور زوی، یا دترور ورور محرم نه دی دده سره سفر کول جائز نه دی، (٣) اوهمدا رکم دښځو سره سفر کول صحیح نه دی دا اصل مذهب دی (٤) اوبعضی وایی که دصلحاوو سره سفر وکړی نودرست دی. وقیل انها

(١). قال الشامی تحت قول الدرالمختار ممن یجب استیذانه وکذا الغریم لمدیون لا ما ل له یقضي به، والکفیل لو بالاذن، فیکره خروجه بلا إذنهم کما في الفتح، وظاهره أن الکراهة تحریمیة ولذا عبر الشارح بالوجوب ﷺ (ردالمحتار کتاب الحج ج۲ ص ۱۵۲ ، ط. س. ج۲ ص ۴۵۲). ظفیر
(٢). ردالمحتار کتاب الحج ج۲ ص ۲۰۰. ظفیر
(٣). والمحرم من لا یجوز له مناکحتها علی التابید بقرابة او رضاع او صهریة (ردالمحتار کتاب الحج تحت قوله مع زوج او محرم ج۲ ص ۱۹۹ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۴). ظفیر
(٤). ویعتبر في المرأة أن یکون لها محرم تحج به أوزوج ولا یجوز لها أن تحج بغیرهما إذا کان بینها وبین مکة =

تسافر مع الصالحين والصبى والمعتوه غير محرمين كما فى المحيط عن القهستانى ([1]). فقط

دغير محرم بوډا سره ښځې حج ته سفر کولی سی او که نه ؟ سوال : (۵۳) يوه کونډه ښځه چې دنصاب خاونده وی هغه دغير محرم بوډا سره حج ته تلل غواړی نوجائز دی اوکه نه؟ ([2]) اوکه داښځه يوازی دمستوراتو سره يوځای سی نوجائز دی اوکه نه دی؟

جواب: جائزنه دی په شامی کی دی. وفيه اشارة ان الحرة لا تسافر ثلاثة ايام بلا محرم الخ ([3]) جائزنه دی. فقط

آيا ښځه دهغه ښځو سره حج ته تللی سی چی دخپل محرم سره ځی؟ سوال: (۵۴) يوه کونډه ښځه چی هيڅ محرم ورسره نسته حج ته تلل غواړی، اونوری ښځی چی دخپلو خاوندانو سره تلی دهغو په ليدلو باندی داهم تياره سوه نو ايا بدون دمحرم ځخه تللی سی؟ اوکه څوك يی منعه کړی دهغه څه سزا ده؟

جواب: ترڅو چی دغه کونډه دخپل محرم سره نه وی ترهغه وربادی حج فرض نه دی او تلل ورته جائزنه دی.

که محرم عرفات ته ونه رسيدی نوحج وسو اوکه نه؟ سوال: (۵۵) محرم په يوم النحر کی دطلوع فجر څخه مخکی عرفات ته ورسيدی ليکن دومره فاصله وه چی دعرفات په ميدان کی په رسيدو رسيدو طلوع دفجر وسو البته که هغه کاڼی وولی نوهلته رسيږی، يوسړی وايی چی دمحرم کاڼی ورسيږی نومحرم دی رسيدلی وګڼل سی نوآيا داصحيح ده؟

جواب: ددغه سړی دغه قول غلط دی دعرفات په ميدان کی په هرځای کی چی وی دمحرم رسيدل ضروری دی که څه هم ديوی لحظی دپاره هم وی بدون لدينه چی په

= مسيرة ثلاثة أيام وقال الشافعي رحمه الله : يجوز لها الحج إذا خرجت في رفقة ومعها نساء ثقات لحصول الأمن بالمرفقة ولنا قوله عليه الصلاة والسلام [لا تحجن امرأة إلا ومعها محرم] ولأنها بدون المحرم يخاف عليها الفتنة وتزداد بانضمام غيرها إليها ولهذا تحرم الخلوة بالأجنبية وإن كان معها غيرها. (هدايه على هامش فتح القدير كتاب الحج ج٢ ص ١٢٨). ظفير

([1]). ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع ج۵ ص ۳۴۳ ، ط. س. ج۲ ص ۳۹۰. ظفير

([2]). وګوره ردالمحتار كتاب الحج ج٢ ص ١٩٩ ، ويعتبر في المرأة أن يكون لها محرم تحج به أوزوج ولا يجوز لها أن تحج بغيرهما إذا كان بينها وبين مكة مسيرة ثلاثة أيام. (هدايه على هامش فتح القدير كتاب الحج ج٢ ص ١٢٨ ، ط. س. ج۲ ص ۴۲۴). ظفير

([3]). ومع زوج او محرم ﴿ مع وجوب النفقة لمحرمها عليها ﴾ لامرأة (ردالمحتار كتاب الحج ج٢ ص ١٩٨ – ١٩٩ وروى البزار لا تحج امرأة الا ومعها محرم. (البحر الرائق ج٢ ص٣٣٨ ، ط. س. ج۲ ص ۳۱۴). ظفير

عرفات کی وګرځی حج یی نه کیږی لکه څنګه چی په شرح لباب المناسك کی دی چی دریم شرط وقوف عرفه پرعرفات دریدل دی. فلواخطأه لم یجز وقوفه بغیر عرفة ولوببطن عرنة الی ان قال الخامس کینونته بعرفة فی وقته الخ ولو لحظة (١). فقط

چی پرخپله ذمه حج فرض وی نودوالد دحج په کولو سره دده فرض اداء کیږی اوکه نه؟

سوال: (٥٦\) په یوسړی باندی حج فرض دی لیکن دمور اودپلار سره یی دومره مال نسته چی حجورباندی وکی اوس داسړی پخپله حج کول غواړی، آیا خپل پلار ولیږی اوحج وکړی اوکه پلار حج وکړی نو دده دذمی څخه فرض اداء کیږی اوکه نه؟

جواب: ده ته پخپله حج کول په کاردی که پلار حج وکړی نوبیاهم پرده پخپله حج کول لازم دی (٢). فقط

دحج څخه وروسته یامخکی دزنا کولو والا حج کیږی اوکه نه؟ سوال: (٥٧\) یوسړی دخاوند والا ښځه خپل کورته راوسته اوځو میاشتی یی زنا ورسره وکړه وروسته یی بیا حج وکی، بیرته چی راغی بیا دپخوا پشان په بدکاری کی مشغول وو اوس ددی ښځی میړه مجبوره سو اوطلاق یی ورکی دعدی څخه وروسته زانی ورسره نکاح وکړه نوددغه سړی حج صحیح اوکه نه؟

جواب: دده حج صحیح سو اوقائم به وی اودوباره حج کول ورباندی فرض نه دی (٣) (خو دزناکاری ګناه یی وسوه مګر ددی وجه څخه دحج په اداء کولو هیڅ اثرنه پریوزی. ظفیر)

دعرفی ورځ که په جُمعه راسی ، نو ایا دا حج تر نورو اویاوو حجونو ښه دی؟ سوال: (٥٨\) د

---

(١). ومع زوج اومحرم الخ مع وجوب النفقة علیها لمحرمها الخ لامراة حرة ولوعجزا فی سفر (ایضا ج٢ ص ١٩٨ ، ط. س. ج٢ ص ٤٦٤) په هدایه کی دممانعت صراحت موجود دی وګوری فتح القدیر كتاب الحج ج٢ ص ١٢٨). ظفیر

(٢). المسك المتقسط ص ١٠٤) والحج فرضه ثلاثة الاحرام الخ والوقف بعرفة فی اوانه (درمختار) وهومن زوال یوم عرفة الی قبیل طلوع فجر النحر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الحج ج٢ ص ٢٠٢ ، ط. س. ج٢ ص ٤٦٤) اما وأما زمانه فزمان الوقوف من حین تزول الشمس من یوم عرفة إلى طلوع الفجر الثاني من یوم النحر حتى لو وقف بعرفة في غیر هذا الوقت كان وقوفه وعدم وقوفه سواء لانه فرض مؤقت ؒ وكذا من لم یدرك عرفة بنهار ولا بلیل فقد فاته الحج ؒ اما القدر المفروض من الوقوف فهو كینونته بعرفة في ساعة من هذا الوقت فمتى حصل اتیانها في ساعة من هذا الوقت تأدى فرض الوقوف سواء كان عالما بها أو جاهلا نائما أو یقظان مفیقا أو مغمى علیه وقف بها أو مر وهو یمشی أو على الدابة أو محمولا (بدائع الصنائع كتاب الحج فصل ركن الحج ج٢ ص ١٢٥ وص ١٢٧). ظفیر

(٣). والمركبة منهما كحج الفرض تقبل النیابة عند العجز فقط لكن بشرط دوام العجز الی الموت لانه فرض العمر حتٰی تلزم الاعادة بزوال العذر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغیر ج٢ ص ٣٢٦ وج٢ ص ٣٢٧ ، ط. س. ج٢ ج ٥٩٨). ظفیر

عرفی ورځ که دجمعی په ورځ واقع سی نودا دنورو اویاوو ۷۰ حجونو څخه افضل ده (چی غیر جمعه وی) یانه وی لکه څنګه چی په بحر الرائق کی دی: وقد قیل اذا وافق یوم عرفة یوم جمعة غفر لاهل کل الموقف وانه افضل من سبعین حجة غیر یوم الجمعة کما ورد فی الحدیث الشریف انتهٰی، لیکن صاحب دردالمحتار لیکلی دی چی: ولکن نقل المناوی عن بعض الحفاظ ان هذا حدیث باطل لا اصل له انتهی. آیا داروایت واقعی باطل دی؟ یوروایت دحضرت ابوهریرة ﷺ حافظ سخاوی ﷫ په فضائل اعمال کتاب کی نقل کړی دی: عن ابی هریرة ﷺ عن النبی ﷺ ان الله عزوجل خلق الایام واختار منها یوم الجمعة فکل عمل یعمله الانسان یوم الجمعة یکتب له سبعین حسنة، الحدیث. داحدیث صحیح دی اوکه نه دی؟

جواب: صاحب ددرمختار دا اختیار کړی چی که دجمعی په ورځ وقوف دعرفات وسی نودا حج داویا حجونو څخه زیات فضیلت لری چی په غیر جمعه کی راسی اودا مسئله مسلمه ده چی په فضائل اعمالو کی په ضعیف حدیث هم عمل کیدی سی. کما فی الدر المختار عن الرملی فیعمل به فی فضائل الاعمال وان انکره النووی [1]. په هرحال دجمعی دوقوف فضیلت ضرور دی نوکه دسبعین حجة په روایت کی ضعف هم وی نو داصل فضیلت منافی نه دی اوپه داسی کارونو کی قطعی حکم نه ورکول کیږی، اونه یې څه ضرورت دی، اوحافظ سخاوی ﷫ چی کم حدیث په فضائل اعمال کی ددی مضمون نقل کړی هغه که صحیح وی نومطلب حاصل دی اوکه ضعیف هم وی څه قدح نسته. کمامر عن قبوله فی فضائل الاعمال والله عنده علم الکتاب [2] وهواعلم بالصواب. فقط

ښځه پخپله هم مریضه سوه اومحرم یی هم نوځه وکړی؟ سوال: (۵۹۱) یوه سړی دحج فریضه اداء کړی مګر دهغه ښځی نه ده اداء کړی اودهغه سره دومره روپی دی چی خاوند او ښځه دواړه په خوبی سره حج کولی سی لیکن سړی کمزوری اودائم المریض دی اوښځه هم کمزوری ده مګر دومره کمزوری نه ده چی تللی نه سی، بل په دی وخت کی په حجاز

---

(١). هو ای الحج فرض الخ مرة لان سببه البیت وهوواحد (درمختار) ولایتکرر الواجب اذا لم یتکرر سببه ولحدیث مسلم یاایها الناس قدفرض علیکم الحج فحجوا فقال رجل اکل عام یارسول الله فسکت حتی قلها ثلاثا فقال رسول الله لوقلت نعم لوجبت ولما استطعتم (ردالمحتار کتاب الحج ج۲ ص ۱۹۰ ، ط. س. ج۲ ص **۴۵۴** و**۴۵۵**)، ظفیر

(٢). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار عند باب وضوء مطلب فی بیان ارتقاء الحدیث الضعیف الی مرتبة الحسن، ج١ ص ١١٩ ، ط. س. ج٢ ص ١٢٨. ظفير

کی دلاری تکلیفونه زیات دی نوپه مذکوره حالاتو کی ددواړو حج ته تلل ضروری دی، اوکه همدومره روپی اسلامی مدرسو اونورو داسی ځایونو ته په خیرات ورکولو سره ښه دی ؟

جواب: که دده پر ښځی باندی حج کول فرض وی نودحج کول ورته په کاردی، چونکی دښځی سره دمحرم تلل ضرورت دی نوخوښه یی چی دخاوند سره وی اوکه دیو بل محرم سره دده اختیاردی، که اوس په دستی دحج په سفر کی دعدم اطمنان په وجه تامل وی، نوڅه انتظام وکړی چی داطمنان دوخت خبرونه راسی دغه وخت دی اراده وکړی (١).
غرض داچی دحج فریضه دحج په اداء کولو سره اداء کیږی، مدارسو اونورو ته په ورکولو سره حج نه ادا کیږی.

قرضدار بغیر دقرض اداء کولو حج کولی سی اوکه نه؟ سوال: (١٠٢) که یو سړی دحج اداء کول غواړی اوهغه قرضداری وی نوهغه ته دتللو څخه مخکی دقرض اداء کول ضروری دی اوکه نه؟ اوبغیر دقرض داداء کولو څخه حج ته تللی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وغیرها سنن واداب کان یتوسع فی النفقة ویحافظ علی الطهارة وعلی صون لسانه ویستاذن ابویه ودائنه وکفیله الخ. اوپه شامی کی دی: وکذا یکره بلا إذن دائنه وکفیله والظاهر أنها تحریمیة لاطلاقهم الکراهة، ویدل علیه قوله فیما مر في تمثیله للحج المکروه کالحج بلا إذن مما یجب استئذانه فلا ینبغي عده ذلك من السنن والآداب الخ (٢). ددغو روایاتو څخه دامعلومه سوه چی حج ته دتللو په وخت کی اجازه اخیستل یامستحب دی اویا واجب دقرض داداء کولو ضروروالی ثابت نه دی.

دوهم باب

دحج ارکان او واجبات

دکمی ښځی چی دحج په ورځو کی حیض راسی نوهغه څنګه وکړی؟ سوال: (١٠٣) مستورات دحج په ورځو کی دخپلو خاصو ورځو په حالت کی دحج ارکان څنګه اداء کولی سی؟

جواب: دطواف څخه بغیر دی نور ټول ارکان اداء کړی اودفرضی طواف دی وروسته بیا قضا راوړی چی کله پاکه سی اوسنت او واجب طواف ساقط سو (٣). فقط

---

(١). مع امن الطریق بغلبة السلامة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحج ج٢ ص ١٩٧ ، ط. س. ج٢ ص ٥٢٣). ظفیر

(٢). وګوری ردالمحتار کتاب الحج ص ٢٠٥ ، ط. س. ج٢ ص ٤٧٠ و ٤٧١. ظفیر

په عرفات کی څه وخت حاضری ضروری ده چی طواف وسی؟ سوال: (۱۱\ ۲۳) په عرفات باندی دحاجیانو ترڅه وخته پوری په رسیدلو باندی سړی په حج کی شاملیږی؟

دحج دخطبی وخت څه دی؟ سوال: (۱۲\ ۲۴) دحج خطبه څه وخت شروع اوڅه وخت ختمیږی؟ چی دلمر پریوتو څخه مخکی دعرفات څخه بیرته راسی نودم واجب کیږی او که نه؟

که دغروب الشمس څخه مخکی دعرفات څخه راسی نو دم واجبیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۳\ ۲۵) که دغروب افتاب څخه مخکی دعرفات څخه راسی نودم واجب دی اوکه نه؟

جواب: ۱\ : دیوم عرفه یعنی دنهم دذو الحجی دزوال څخه وروسته دیوم نحر یعنی دلسم دذوالحجی په شپه کی دصبح صادق څخه مخکی چی هر وخت هم عرفات ته ورسیږی نو فرض یی اداء کیږی. ([1])

۲\ : په حج کی دری خطبی دی یوه په اووم دذی الحجی په مکه معظمه کی، دوهمه په نهم دذی الحجی دعرفات څخه وروسته دزوال الشمس څخه وروسته اومخکی دماپښین ترلمانځه، او دریمه خطبه په یوولسم دذی الحجی په منٰی کی اودهغه تفصیل په کتابونو کی دی. ([2])

۳\ : دلمر ترپریوتو پوری اوسیدل په کاردی که مخکی دغروب الشمس څخه راسی نودم لازم دی. کذا فی الشامی ([3]).

دعرفات دحاضری وخت کم دی؟ سوال: (۲۵) حاجی پرعرفات باندی دکمی ورځی څخه او

([3]). واذا حاضت المراة عند الاحرام اغسلت واحرمت وصنعت کما یصنعه الحاج غیر انها لاتطوف بالبیت حتٰی تطهر لحدیث عائشه. (هدایه باب للتمتع ج۱ ص ۲۴۲). ظفیر

([1]). الحج فرضه ثلاثة الاحرام ﷺ والوقوف بعرفة في اوانه (درمختار) وهو من زوال یوم عرفة الی قبیل طلوع فجر النحر (ردالمحتار کتاب الحج ج۲ ص ۲۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۴۷۲). ظفیر

([2]). فإذا کان قبل یوم الترویة بیوم خطب الإمام خطبة یعلم فیها الناس الخروج إلی منی والصلاة بعرفات والوقوف والإفاضة ﷺ ثم یتوجه إلی عرفات فیقیم بها ﷺ وإذا زالت الشمس یصلي الإمام بالناس الظهر والعصر فیبتدي بالخطبة فیخطب خطبة یعلم فیها الناس الوقوف بعرفة ﷺ ویخطب خطبتین یفصل بینهما بجلسة کما في الجمعة ﷺ (هدایه باب الاحرام ج۱ ص۲۲۵) قوله: وبعدالزوال ثانی النحر قال فی اللباب ثم اذا کان الیوم الحادي عشر وثانی ایام النحر خطب الامام خطبة واحدة بعد صلاة الظهر لا یجلس فیها کخطبة الیوم السابع یعلم الناس احکام الرمی وما بقی من امور المناسك وهذه الخطبة سنة وترکها غفلة عظیمة آه (ردالمحتار فصل في الاحرام مطلب في حکم صلاة العید ج۲ ص ۲۵۲ ، ط. س. ج۲ ص ۵۲۰). ظفیر

([3]). ط. س. ج۲ ص ۵۰۳، ثامن الشهر خرج الی منی الخ ومکث بها الی فجر عرفة ثم بعد طلوع الشمس راح الی عرفات الخ واذا غربت الشمس اتی مزدلفة (درمختا) قوله اذا غربت الشمس الخ بیان للواجب حتٰی لودفع قبل الغروب فان جاوز حدود عرفة لزمه دم (ردالمحتار کتاب الحج ج۲ ص ۲۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۵۰۸). ظفیر

څه وخت ورته رسيدل په كاردي دحاجي دپاره عرفات ته درسيدو انتهايي وخت څه دي چي حج يي ورباندي ساقط نه سي؟ يعني چي حج يي اداء سي؟ دعرفات څخه دمزدلفي په طرف حاجي څه وخت ګرځيدلی سي؟ اوددي انتهاء ترڅه وخته پوري ده كه يو حاجي دعرفي په ورځ ماښام دلمر لويدو څخه وروسته دماخستن په وخت يا وروسته دماپښين څخه دشپي په وخت يعني داختر په شپه كي عرفات ته رسيدلی وي نوحج اداء سو اوكه نه؟ كه دا سوي وي نوبيا دشپي دمزدلفي په طرف كله وګرځي؟

جواب: دعرفات مستحب وخت عرفات ته دتللو دادي چي دعرفي په ورځ وروسته دلمر ختو څخه دمنی څخه دعرفات په طرف روان سي اوهلته ورسيږي حسب قاعده دماپښين دلمونځ او دمازديګر څخه چي فارغه سي وقوف عرفات وكړي اودوقوف عرفات وخت دعرفي دورځي دزوال څخه ترطلوع فجر ديوم نحر پوري دي يعني لسم تاريخ ټوله شپه هم دوقوف وخت دي اوپه دي وخت كي چي په هروخت كي عرفات ته ورسيږي نودوقوف فرض اداء سول، او دمزدلفي په طرف دګرځيدلو مستحب وخت دادي چي مشهوره دي چي وروسته دغروب افتاب څخه دي دعرفات څخه روان سي اومزدلفي ته دي ورسيږي اودشپي دي هلته واوسيږي اودسهار لمونځ دي په تياره كي اداء كړي او وقوف پر مزدلفه دي وكړي، اوددغه وقوف وخت دنحر (اختر) په ورځ له طلوع فجر څخه تر لمر ختلو پوري دي، اودا وقوف واجب دي، اوكم حاجي چي دعرفې په ورځ دماښام څخه وروسته دلمر لويدو يا دماخستن په وخت يا دهغه څخه هم وروسته دصبح صادق څخه مخكي عرفات ته ورسيږي نودده حج صحيح سو. هغه چي پر عرفات باندي لږ ودريدی بيا دي ددغه ځای څخه وګرځي او وقوف پر مزدلفه دي هم وكي، كه دمزدلفي دوقوف وخت باقي پاته وو ، ترڅو چي واجب ساقط نه سي، اوكه په مزدلفه وقوف ونه سي (١) او دغه وخت پيدا نه سي نوترك واجب سو او دم دي وركړي، پاته تفصيل په مناسك حج كي مشهوره اومعروف دي او دفقهي په كتابونو كي مذكوردي، فليراجع

كه دوداع طواف ونه كړي نو څه حكم دي؟ سوال: (٢٢) زيددحج داداء كولو دپاره بيت الله ته روان سو، چونكي چي حج ته وخت زيات پاته دي زيد اوملګرو يي په يلملم كي پر

(١). فإذا صلى الفجر يوم التروية بمكة خرج إلى منى فيقم بها حتى يصلى الفجر من يوم عرفة ۞ ثم يتوجه الى عرفات فيقيم بها ۞ واذا زالت الشمس يصلى الامام بالناس الظهر والعصر ۞ ويصلى بهم الظهر والعصر في وقت الظهر باذان واقامتين ۞ واذا غربت الشمس افاض الامام والناس معه ۞ فلو مكث قليلا بعد غروب الشمس وافاضة الامام فلا باس به ۞ ثم اتى مزدلفة ۞ ويصلى الامام بالناس المغرب والعشاء باذان واقامة واحدة ۞ ثم وقف ۞ ثم هذا الوقوف ثلاثة الا حرام ۞ والوقوف بعرفة في اوانه (درمختار) وهو من زوال يوم عرفة الى قبيل طلوع فجر النحر (ردالمحتار كتاب الحج ج٢ ص ٢٠٢ ، ط. س. ج٢ ص ٥٠٨). ظفير

غره باندی ددی وجهی څخه احرام ونه تړی چی اول یی مدینی منوری ته دتللو اراده وه، ترڅو چی دوی مدینی منوری ته په رسیدلو سره دروضه اقدس دنبی کریم ﷺ دزیارت شرف حاصل کړی، اوبیا له دی ځای څخه ولاړه بیت الله شریفی ته، چی درابغ په مقام کی زید دحج داداء کولو په نیت احرام وتړی اوکله چی حرم شریف ته ورداخل سو نوداخلی طواف اودحج ارکان یی اداء کړل، ددی څخه وروسته یی بیا یووار طواف وکی بیا سخت ناجوړی سو، بیا دذی الحجی په اوومه په وخت دروانگی وعرفات ته دتللو پروخت یې طواف په حالت دمریضی کی په چارپایی باندی وکی په عرفات کی په مخصوص میدان باندی داخل سو خطبه یی واوریده اونور ټول ارکان یی دحج صفا اومروه دلاری په اثناء کی اداء کړل بیا یې دمنٰی په مقام کی تر (۱۳) دذی الحجی پوری دنورو حاجیانو په شان قیام وکی اوپه دغه تاریخ (۱۳) یی احرام خلاص کی او وریښتان یی پری کړل لکه څنگه چی نورو حاجیانو وکړل بله ورځ بیت الله شریفی ته بیرته راغی مگر دمریضی په وجه ده په خپله پیاده طواف دواپس کیدو دحرم شریف څخه ونسو کړای، دلته هم لکه چی په ۷ تاریخ دذی الحجی یې کړی ؤ په چار پایی باندی طواف کول ممکن وو، مگر ملگرو او نورو اهلیانو دمنطقی ورته دامسئله ورکړه چی دواپسی طواف ته اوس ضرورت نسته، نوددغه وجه څخه یی دواپسی طواف ونه کی، اوپه دی حالت دمریضی کی زید خپل وطن ته بیرته راغی اوپه دغه وخت کی تقریبًا دوه کاله تیر سول، اودخپلی ښځی سره یی دعادت مطابق جماع کوله، دهند دعلماوو څخه چی په دی باره کی پوښتنه وسوه نو بعضو دواپسی طواف واجب وښووی چی داهم رکن دی ترڅو چی نه وی کړی حج کامل نه دی بعضو فرمایلی دی چی ترڅو طواف ونه کړی نوښځی ته ورتلل حرام دی، اوبعضو فرمائیلی دی چی دواپسی طواف په نه کولو سره دښځی حرمت لازم نه دی مگر دواپسی طواف دواجباتو څخه دی مگر دمرض او دغلط بیان په وجه مسئله نه اداء کیږی، لهذا دوه دمه به ورکوی ترڅو چی تاخیر سوی هغه رفع سی مگر دواپسی دطواف اداء کول به ورباندی وی چونکی په مسئله کی زیات اختلاف دی لهذا کم قول صحیح دی اوکم یو معتبر گڼل کیږی. دجماع شمارنه سی کیدی اوپه زیدکی استطاعت ددوباره ورتلو نسته البته دم ورکولی سی ځکه چی دنصاب دزکات اوقربانی خاوند دی. بینوا توجروا !

جواب: په سوال کی دانه دی ذکر سوی چی زید داافاضی طواف کړی دی اوکه نه دارکن اوفرضی طواف دی، ددی طواف څخه بغیر داحرام څخه نسی وتلی، اودښځی جماع نه حلالیږی ددی طواف وخت دلسم ۱۰ دذی الحجی څخه تر دولسم ۱۲ دذی الحجی پوری دی دمنی دقیام په حالت کی مکی معظمی ته راسی اودا طواف وکړی اوبیا بیرته منٰی

ته ولاړسی، بیا دامعلومول په کاردی چی زید داطواف کړی دی اوکه نه؟ که یې نه وی کړی نوبیا دی مکی مکرمی ته ولاړ سی اوطواف کول وربانﺪی لازم دی، اودښځی سره دجماع په وجه اودتاخیر کولو ددی احرام دوجه دم لازم دی، اوکه داطواف یعنی دافاضی طواف یی کړی وی نو دحج فرض اداء سوه [1]، طواف وداع یعنی دمکی معظمی څخه وروسته اودرخصت کیدو طواف فرض نه دی واجب دی ددی په ترکولو باندی صرف یو دم لازم دی دبیرته تللو اوددی طواف دکولو ضرورت نسته [2]، نوسائل ته داتشریح کول په کاردی چی دنحر په ورځوکی یعنی د (١٠) دذی الحجی څخه کم طواف زید کړیدی اوکه نه؟ که یې نه وی کړی نودزیارت طواف دده پرذمه باقی دی اومکی معظمی ته به ولاړ سی چی کله یی کولی سی هغه طواف ضروری دی کول یې، اوبغیر ددی طواف دکولو څخه دښځی جماع ورته حلاله نه ده.

دحج اراده چی چا وکړه نوضروری ده چی دحج دمسائلو څخه ځان خبر کړی په پښتو او فارسی ژبو کی دحج احکام په کتابونو کی موجود دی دومره خوضرور کول په کاردی چی په حج کی څه څه اشیاء فرض دی؟ په هرحال اوس یی صاف لیکل په کاردی چی طواف زیارت یی کړیدی اوکه نه؟ له دی څخه وروسته مکرر شرح دجواب دی ولیکل سی، اوواضحه دی وی چی طواف زیارت جلادی اوطواف وداع جلادی، چی اول فرض او دحج رکن دی اودوهم واجب دی فقط. والله تعالیٰ اعلم

کتبه عزیز الرحمٰن مفتی مدرسه عربی دیوبند

که طواف زیارت ونه کړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (٧٧) که یوسړی دحج دپاره ولاړی او هغه دحج افعال اوارکان اداء کړل لیکن طواف زیارت یی ونه سو کړی اوخپل وطن ته بیرته راغی نوددی څه حکم دی؟

جواب: حج کوونکی که بغیر دطواف زیارت څخه په دی ډول چی دایام نحر اودهغه څخه وروسته یې کم طواف ونه کی اوخپل وطن ته بیرته ولاړی نوښځه وربانﺪی حرامه ده او

([1]). وفرضه ثلاثة الاحرام والوقوف بعرفة وطواف الزيارة الخ وطواف الزيارة أول وقته بعد طلوع الفجر يوم النحر وهو فيه أي الطواف في يوم النحر الاول أفضل وحل له النساء الخ فإن أخره عنها أي أيام النحر ولياليها منها كره تحريما ووجب دم لترك الواجب الخ ثم اتى منى (درمختار) قوله كره تحريما الخ اى ولو اخره الى اليوم الرابع الذى هو اخر ايام التشريق وهو الصحيح الخ وبه يفتى (ردالمحتار كتاب الحج ج٢ ص ١٠٢ وباب الاحرام ج٢ ص ١٥٢ ، ط. س. ج٢ ص ٤٢٧). ظفير

([2]). ثم اذا اراد السفر طاف للصدر اى الوداع سبعة اشواط بلا رمل وسعى وهو واجب الا على اهل مكة (در مختار) قوله وهو واجب فلونفر ولم يطف وجب عليه الرجوع ليطوف ما لم يجاوز الميقات فيخير بين اراقة الدم، والرجوع باحرام جديد بعمرة الخ (ردالمحتار مطلب فى طواف الصدر ج٢ ص ٢٥٥ ، ط. س. ج٢ ص٥٢٣). ظفير

په دې په باره کی دهغه احرام باقی دی اوبیرته تلل یی مکی معظمی ته اوطواف زیارت کول وربانذی لازم دی اوهم فرض دی بغیر ددی طواف څخه داحرام څخه دباندی نه سی وتلی اوښځه ورته حلاله کیدی نه سی. فقط

دیارلسم باب

احرام

محرم دربړ یاتار په بند باندی لنګ تړلی سی اوکه نه؟ سوال: (٢٨\١)په ربړ یا تار باندی احرام تړلی سی اوکه نه؟

محرم داحرام څادر دګرمی دوجه غورځولی سی اوکه نه؟ سوال: (٢٩\٢) داحرام په حالت کی چی کم څادر په غاړه اچوی، په وروسته حالت کی یی غورځولی سی اوکه نه؟

دحج دعاګانی کتاب ته په کتلو ویل څنګه دی؟ سوال: (٧٠ \٣) دچا چی دحج دعاګانی په یاد نه وی زده هغه یې په کتاب کی په ویلو باندی ویلی سی اوکه نه؟

جواب: \١: په ربړ اونورو باندی احرام تړلی سی. (١)

٢\: هروخت یی دلیری کولو ضرورت نسته، (٢) دخولو اونورو حاجتونو دامله دضرورت په وخت کی احرام لیری کولای سی. (٣)

٣\: په کتابونو کی کتل ویل کولی سی، وروسته دویلو څخه یی ساتلی سی. (٤)

څلورم باب

جنایات

که محرم چنګښه مړه کړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (٧١\) عن ابی الزبیر المکی عن جابربن عبدالله قال قال رسول الله ﷺ من قتل ضفدعًا فعلیه شاة محرمًا کان او حلالاً. آیا په قتلولو دڅنګښی کی پسه واجب دی اوکه نه؟

---

(١). ولو لم یطف طواف الزیارة اصلا حتی رجع اهله فعلیه ان یعود بذالك الاحرام لانعدام التحلل منه وهو محرم عن النساء ابداً حتی یطوف (هدایه) وکذا اذا رجع الی اهله وترك منه اربعة اشواط یعود بذلك الاحرام وهو محرم ابدا فی حق النساء وکلما جامع لزمه دم اذا تعددت المجالس (فتح القدیر کتاب الحج ج٢ ص ٢٤٢). ظفیر

(٢). فان زرره او خلله اوعقده اساء ولا دم علیه (درمختار) وکذا لوشده بحبل ونحوه لشبهة حینئذ بالمخیط من جهة انه لایحتاج الی حفظه بخلاف شهد الهمیان فی وسطه (ردالمحتار باب الاحرام ج٢ ص ٢١٥ ، ط. س. ج٢ ص ٤٨١). ظفیر

(٣). وکذا یستحب لمرید الاحرام ﷺ لبس ازار واداء علی ظهره ﷺ وهذا بیان السنة والا فستر العورة کاف (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الاحرام ج٢ ص ٢١٥ ، ط. س. ج٢ ص ٤٨١). ظفیر

(٤). ردالمحتار باب الجنایات ج٢ ص ٢٩١. ظفیر

جواب: قال فى ردالمحتارقوله فان قتل محرم صيدًا اى حيوانًا بريًا متوحشًا باصل خلقته الخ (درمختار) واحترز به عن البحرى وهو ما يكون توالده في الماء ولو كان مثواه في البر لان التوالد اصل والكينونة بعده عارض فكلب الماء والضفدع المائى كما قيده في الفتح قال ومثله السرطان والتمساح والسلحفاة بحري يحل اصطياده للمحرم بنص الاية وعمومها متناول بغير الماكول منه وهو الصحيح خلافاً لما في مناسك الكرماني من تخصيصه بالسمك خاصة اما البري فحرام مطلقاً الخ (١). شامى. نو معلومه سوه چې داحنافو په نزد صحيح داده چې ځنګښه ماهی دی اوپه عموم دآيت مباركه: احل لكم صيد البحر وطعامه متاعاً لكم (٢). الآية. كې داخل دی، اوپه قتل دهغه كې پسه واجب دی. ولعل الحديث محمول على البرى. فقط

كه دښځو دطرف څخه سړی په مجبوری كې رمی جمار وكی نوڅه حكم دی؟ سوال: (٧١\١) زيد دجمرات ثلاثه رمی په ١٢ تاريخ دښځو دخوا څخه وكالة وكړی ځكه چې قافله تللی ده دښځو رمی ويشتل ډير سخت وو نودارمی صحيح ده اوكه نه؟ دعدم صحت په حالت كې دم واجب دی اوكه نه؟

محرم چشمې لګولی سی اوكه نه؟ سوال: (٧٢\٢) محرم چشمې لګولی سی اوكه نه؟

جواب: ١\ : رمی جمار واجب ده اوپه ترك دواجبوكی چې شرعی عذروی هيڅ نه لازميږی. كمافى ردالمحتار، وكذا كل واجب اذا تركه بعذر لا شيئ عليه، كمافى البحر. شامى (٣). وهكذا فى باب المناسك وغيره. نو په دی صورت كې په سبب دعذر دازدحام په وجه رمی پاته سويده نودم نه باندی واجبيږی.

٢\) لګولی يې سی (٤). فقط

دبوټ په پښو كولو سره په محرم باندی دم لازميږی: سوال: (٧٣\) كه محرم بوټ په پښو كې اوكعبين يې پټ سول نو دجنايت دم لازميږی او كه نه؟ اوكه جنايات متعدد وی نو يو دم

---

(١). المائده : ١٣. ظفير

(٢). لو ترك شيئا من الواجبات بعذر لاشيئ عليه على ما فى البدائع (ردالمحتار باب الجنايات ج٢ ص ٢٧٥ ، ط. س. ج٢ ص ٤٥٥). ظفير

(٣). فجملة الكلام فيه أن محظورات الاحرام في الاصل نوعان نوع لا يوجب فساد الحج ونوع يوجب فساده اما الذى لا يوجب فساد الحج فانواع بعضها يرجع إلى اللباس وبعضها يرجع الي الطيب وما يجرى مجراه من ازالة الشعث وقضاء التفث وبعضها يرجع إلى توابع الجماع وبعضها يرجع إلى الصيد (بدائع الصنائع بيان مايخطره الاحرام ج٢ ص ١٨٣). ظفير

(٤). بدائع الصنائع كتاب الحج فصل فى بيان مايخطره الاحرام ج٢ ص ١٨٢ وج٢ ص ١٨٧. ظفير

لازمیږی اوکه نه متعدد دمونه لازمیږی؟

جواب: په دی صورت کی دده په ذمه باندی دم دجنایت لازم دی، لیکن په جنایاتو کی تداخل کیږی صرف یوم دم لازمیږی، چی ددی په حرم کی ذبح کول ضروری دی که اوس پخپله نسی تللی نویو دحج تلونکی دی دخپل ځان وکیل ونیسی هغه دی واخلی اوذبح دی کړی. په بدائع کی دی: اذا لبس المخيط من قميص اوجبة الخ او خفين او جوربين من غير عذر وضرورة يوماً كاملاً فعليه الدم لا يجوز غيره لان لبس احد هذه الاشياء يوماً كاملاً ارتفاق كامل فيوجب كفارة كاملة وهى الدم (١)، الخ بدائع الصنائع جلد دوهم. وفيه ايضًا ولهذا لم يجز الدم الابمكة الخ وانما عرف اختصاص جواز الذبح بمكة بالنص وهوقوله تعالىٰ: حتى يبلغ الهدى محله الاية (٢)، وفي شرح لباب المناسك لملاعلى القارى فى شرائط جواز الدم والثالث ذبحه في الحرم بالاتفاق سواء وجب شكراً او جبراً الخ وفي الدرالمختار والزايد على يوم كاليوم وان نزعه ليلاً واعاده نهاراً الخ ما لم يعزم على الترك الخ (٣). فقط

دمنٰی څخه پورته سو شیطانان یی وویشتل نوآیا دم لازم دی اوکه نه؟ سوال: (٧٤\١) که حاجی وړی تیږی دځان سره دمزدلفی څخه نه وی راوړی بلکی دمنٰی څخه یی راوړی وی او ویی ولی نودم لازم دی اوکه نه؟

دترتیب په خلاف ویشتلو (رمی) سره وینی لازمیږی اوکه نه؟ سوال: (٧٥\٢) که بې دشیطانانو ځلی بې ترتیبه وویشتل ، نو دم ورباندی لازمیږی اوکه نه؟

په دریمه ورځ چی رمی جمار ونه کړی نودم باندی لازمیږی اوکه نه؟ سوال: (٧٦\٣) په دریمه ورځ درمی جمار نه کولو سره دم لازمیږی اوکه نه؟

جواب: \١ : که وړی تیږی یی دمزدلفی څخه نه وی راوړی اودمنی څخه یی را اخیستی وی نو رمی باندی وکړی نودم لازم نه دی لیکن که دجمرو سره یی را واخلی نودا مکروه تنزیهی دی (٤).

---

(١). ايضا ج٢ ص ١٨٨. ظفير

(٢). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الجنايات ج٢ ص ٢٧٨ ، ط. س. ج٢ ص ٥٤٧ و٥٤٨. ظفير

(٣). ويستحب ان ياخذ حصى الجمار من المزدلفة اومن الطريق ولايرمى بحصاة اخذها من عند الجمرة فان رمى بها جاز وقداساء كذا فى السراج الوهاج (عالمگيرى مصرى كتاب الحج باب خامس ج١ ص ٢١٨ ، ماجدية ج١ ص ٢٣٣). ظفير

(٤). (الثاني عشر) أنه في اليوم الأول يرمي جمرة العقبة لا غير ، وفي بقية الأيام يرميها يبدأ بالأولى ثم بالوسطى ثم بجمرة العقبة كذا في المحيط ، وإن بدأ في اليوم الثاني بجمرة العقبة فرماها ثم بالوسطى ثم بالتي تلي المسجد إن أعاد الوسطى والعقبة فحسن كذا في محيط السرخسي رجل رمى في اليوم الثاني الجمرة الوسط =

۲۱: که رمی جمار په ترتیب سره ونه کړی نوپه دی کی ترك دسنت کیږی اوپه دی کی دم لازم نه دی.
۳۱: په دی طریقه د۱۳ دذی الحجی درمی په پریښوولو سره دم نه لازمیږی وفیه تفصیل مذکور فی کتب الفقه.

پنځم باب

حج بدل

حج بدل څه دی؟ سوال: (۷۷) په مستوراتو حج فرض سو نوجمعه ولی وربانډی فرض نه ده، دجمعه دفرائضو بدل نسته، او دحج بدل دی داڅنګه خبره ده؟

جواب: حج داسی دی لکه څنګه چی دمال دزکات تعلق دی نوداسی زکات په ښځی لازم دی نوحج هم دی اودمحرم موجودوالی ورسره شرط دی، دجمعی بدل ظهر دی لکه څنګه چی ښځی ته دباندی وتل اوپه جومات کی په جمع کی شریکیدل ممنوع دی ددی وجه جمعه فرض نه سوه، اوپه حج کی نیابت درست دی همدا رکم په زکات کی درست دی یعنی څنګه چی حج دبل دپاره کولی سی زکات هم ورکولی سی چی ددغو امورو تحقیق دعربی فقهی دکتابونو په ویلو سره اوکتلو سره معلومیدی سی.

ددو شپیته کاله عمر والا حج بدل کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۷۸) پرسږی چی حج فرض وی اوعمر یی دو شپیته کاله دی دوجه دضعیفوالی دقوت څخه هغه کمزوری او ناتوانه سو دهغه فکر دادی چی زه دسفر تکالیف نه سم تحمل کولی اوهمدا رکم دهاضمی په ضعف هم اخته دی اودری نابالغه لورګانی هم لری په داسی حالت کی دده دحج دپاره پخپله هرډول چی وی تلل په کاردی اوکه نه دحج بدل په کولو سره دده فرض اداء کیږی؟

جواب: په داسی احتمالاتو کی نیابت دحج یعنی حج بدل کول مسقط دفرض نه دی، ځکه چی دحج بدل دپاره بالکل عاجزه کیدل داصل شرط دی (کمافی الدرالمختار والمرکبة منهما کحج الفرض تقبل النیابة عند العجز فقط لکن بشرط دوام العجز الی الموت لانه فرض العمر حتی تلزم الاعادة بزوال العذر الخ) (۱).

دسړی دطرف څخه ښځه حج بدل کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۷۹) دزید متوفی دخوا څخه یوه ښځه حج بدل کولی سی اوکه نه؟

= والثالثة ولم یرم الأولی فإن رمی الأولی ثم أعاد علی الثانیة والثالثة فحسن مراعاة للترتیب، وإن رمی الأولی وحدها أجزأه عندنا (عالمګیری مصری کتاب الحج باب خامس ج۱ ص ۲۱۹، ط. س. ج۲ ص۲۳۴). ظفیر
(۱). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغیر ج۲ ص۳۲۲ – ۳۲۷، ط. س. ج۲ ص۵۹۸). ظفیر

جواب: دسړی دطرف څخه ښځه حج بدل کولی سی لیکن افضله دا دی چی یواځی په سړی سره حج بدل وکړی. درمختار. فجاز حج الضرورة الخ والمرأة الخ وغيرهم اولى الخ. درمختار ([1]). فقط

یوسړی دحج دپاره روان سو لیکن په لاره کی مړسو: **سوال**: (۸۰۱) یوسړی دفرضی حج دپاره مکی مکرمی ته روان ؤ چی په لاره کی مړسو میقات ته درسیدو څخه مخکی په باقی مانده روپو یی بل سړی حج وکی دده دطرف څخه، اوس ورثه یی دهغه څخه روپی غواړی ځکه چی مړی هغه ته وصیت نه وو کړی، په دی صورت کی دمړی دطرف څخه حج اداء سو اوکه نه؟ او ورثه وو ته دروپو دغوښتلو حق سته اوکه نه؟ ځینی ورثه یې نابالغ دی؟

جواب: ددغه سړی دغه روپی ورثه وو ته ورکول پکاردی، ځکه چی متوفی څه وصیت نه دی کړی اوباقی مانده روپی میراث دوارثانو دی کله چی دا ددی سړی دورثاوو مملوکه ده لهذا مصرفول یی بغیر داجازی دبالغو وارثانو دی اوده ته داجائز نه وو اوکله چی په ورثاوو کی نابالغ دی نوددغه باقی مانده روپو دهغه دطرف څخه اجازه هم نسی کیدی په هرحال باقی مانده روپی چی یی په حج کی مصرف کړی هغه به واپس ورکوی اوحج دمیت دطرف څخه ان شاء الله اداء سویدی. كما في تبرع الوارث او الاجنبی قال في الشامي وان لم يوص به اى بالاحجاج فنزع عنه الوارث الخ جاز والمعنى جاز عن حجة الاسلام انشاء الله تعالىٰ ثم اعاد في شرح اللباب المسئلة في محل آخر وقال فلو حج عنه الوارث او اجنبي يجزيه وتسقط عنه حجة الاسلام انشاء الله تعالىٰ لانه ايصال للثواب الخ فان فسر المال الخ فالامر عليه الخ ([2]) وفى ردالمحتار ولوكان الميت هو الذى دفع للمامور ثم مات كان للوارث استرداد ما فى يد المامور وان احرم الخ لان الباقى صار ميراثا لكون الميت ثم يوصى به الخ. شامی جلد ثانی ([3]). فقط

روند مستطیع پخپله حج وکی اوکه حج بدل کولی سی؟ **سوال**: (۸۱۱) یوسړی نابینا دی اوپه هغه باندی حج فرض دی اودومره استطاعت یی سته چی دوه کسان دځان سره دخدمت دپاره بوزی په دی حالت کی هغه پخپله حج وکړی اوکه حج بدل؟

جواب: په دی صورت کی هغه دخپل ځان دطرف څخه حج بدل کولی سی، لکه څنګه چی

([1]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٣١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٣. ظفير

([2]). ردالمحتار باب الحج عن الغير قبيل مطلب شروط الحج عن الغير ج٢ ص ٣٢٨ ، ط. س. ج٢ ص ٥٠٠. ظ

([3]). الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص٣٣٢ – ٣٣٣ ط. س. ج ٢ ص٢٠٤– ٢٠٥). ظفير

په درمختار کی دی: ([1]) والمركبة منها كحج الفرض تقبل النيابة عند العجز فقط لكن بشرط دوام العجز إلى الموت الخ هذا أي اشتراط دوام العجز إلى الموت إذا كان العجز كالحبس والمرض يرجى زواله أي يمكن وإن لم يكن كذلك كالعمى والزمانة سقط الفرض بحج الغير عنه فلا إعادة مطلقا، سواء استمر به ذلك العذر أم لا الخ ([2]) . فقط

پرزید باندی حج فرض وو هغه اداء نه کی اونه یی وصیت وکی نوځه وکړی؟ سوال: (۸۲\)

زید مړسو اوپه هغه باندی حج فرض وو اواداء یی نه کی ددنیوی کار په وجه، اودحج په باره کی یی څه وصیت هم ونه کی، نواوس چی هغه ترکه پرې ایښی ده له دی څخه دی مخکی حج بدل وسي اوکه ترکه یې تقسیم سی اوبیا ورثاء په خپله دمرحوم زید دطرف څخه حج وکړی، شرعًا څه حکم دی اوزید قرضداری هم دی؟

جواب: دوصیت څخه بغیر دورثاوو پرذمه ضروری نه ده چی دمتوفی دطرف څخه حج بدل وکی لیکن که جمله وارثان په دی راضی وی اوټول بالغ وی که هغوی ټول دمتوفی دطرف څخه حج وکی نوښه ده اوامید دی چی انشاء الله دمیت دطرف څخه حج اداسو په درمختار کی دی: ویشترط الامر به ای بالحج عنه فلا یجوز حج الغیر بغیر اذنه الا اذا حج اوحج الوارث عن مورثه الخ وفی الشامی وان لم یوص به ای بالاحجاج فتبرع عنه الوارث الخ جاز والمعنٰی جاز عن حجة الاسلام ان شآء الله تعالٰی الخ ([3]). نوکه ټول ورثاء بالغ دی اوهغوی ټول دمورث دمتوفی دطرف څخه په حج کولو باندی راضی وی، نو دترکه دتقسیم څخه مخکی هم حج کولی سی اوکه بعض ورثه بالغ دی اوبعض ورثه نابالغ نواول دی قرض اداء کړی بیا دی وروسته ترکه تقسیم سی دهغه څخه وروسته بالغین دخپلو حصو څخه دمتوفی دطرف څخه حج کولی سی غرض داچی دوصیت څخه بغیر دوارثانو پرذمه ضروری نه ده چی هغوی دی خامخا حج وکړی البته که غواړی کولی یې سی اوددی څخه به دمیت دحج فرض اداء نسی ان شاء الله .

دچاچی صحت خراب وی هغه په خپل ژوند کی حج بدل کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۸۳\)

په یوسړی باندی حج فرض دی اودهغه صحت دومره خراب دی چی دهغه دخپل ژوند امیدهم نسته اودهغه یوزوی دی چی غریب دی اودهغه دا امید نسته چی هغه به دخپل

([1]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج۲ ص ۳۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۵۹۹. ظفير

([2]). ردالمحتار باب ايضا ج۲ ص ۳۳۳. ظفير

([3]). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج۲ ص ۳۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۵۹۹. ظفير

پلار دوفات څخه وروسته حسب وصيت دخپل والد دطرف څخه حج وکړی په داسی حالت کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی چی دی په خپله دحج کولو څخه په سبب دلحوق دمرض عاجزه دی اودهغه په خپل ژوند کی پرحج کولو باندی دقادر کیدو امید نسته نودهغه څخه دوهم سړی دده په ژوندکی دده دطرف څخه حج کولی سی اوکه هغه پخپله حج ونه کړی نوبيا هغه ته وصيت کول لازم دی په دی سره به يی غاړه خلاصه سی که وروسته دده وارث حج ونکړ سره له دی چی دحج وصيت يی ورته کړی وو، نوګناه په ده باندی ده په درمختار کی دی: والمركبة منهما الحج الفرض تقبل النيابة عند العجز فقط، لكن بشرط دوام العجز الى الموت الخ (١).

د۶۶ کالوته درسيدلی عمر والا حج بدل کيدلی سی اوکه نه؟ سوال: (١٨۴) يوسړی د٦٦ کالو مجبوره بوډا دی اوپه بعضو مرضونو باندی مبتلاء دی چی ليری سفر نسی کولی که داسی سړی حج بدل وکړی نوصحيح دی اوکه نه؟

جواب: دداسی سړی څخه دعدم قدرت علی السفر په وجه حج بدل کولی سی (٢). فقط

دتکليف دبيری څخه حج بدل کول اوپخپله يی نه کول څنګه دی؟ سوال: (١٨۵) يومالداره سړی چی عمر يی تقريبا شپيته کاله دی ليکن حج ته دتللو قابل دی يوازی دسفر دتکليف دوجه څخه يی روپی بل سړی ته ورکړی اودحج بدل دپاره يی ليږل غواړی نوپه دی صورت کی دده حج اداء سو اوکه نه؟ اودا چی دده مال دسود دکاروبار څخه دی؟

جواب: ددغه سړی حج ته تلل په کاردی په موجوده حالت کی دبل سړی دحج بدل دپاره په ليږلو سره دده حج نه اداء کيږی (٣)، اوپه حرامو روپو باندی دحج کول په کارنه دی حج يی نه قبليږی که څه هم دحج فرضيت يی ساقط سو، اودا طريقه دی اختيار کړی چی دغه سړی دی قرض واخلی اوحج دی وکړی بيا دی داقرض اداء کړی (۴). فقط

---

(١). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ۵۹۹. ظفير

(٢). وعنه قال : إن امرأة من خثعم قالت : يا رسول الله إن فريضة الله على عباده في الحج أدركت أبي شيخا كبيرا لا يثبت على الراحلة أفأحج عنه ؟ قال : " نعم " ذلك حجة الوداع (متفق عليه) (مشكوٰة كتاب الحج ص ٢٢١) والمركبة منهما كحج الفرض تقبل النيابة عند العجز فقط لكن بشرط دوام العجز الى الموت الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ۵۹۹). ظفير

(٣). والمركبة منهما كحج الفرض تقبل النيابة عند العجز فقط بشرط دوام العجز الى الموت الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٢٢ ، ط. س. ج٢ ص ۵۹۹) . ظفير

(۴). وقد يتصف بالحرمة كالحج بالاحرام (درمختار) ليس حراما بل الحرام هو انفاق المال الحرام ۞ مع انه يسقط الفرض عنه معها ولا تنافى بين سقوطه وعدم قبوله فلا يثاب لعدم القبول ولا يعاقب عقاب تارك الحج =

اويا كلن بوډا چي كمزوري دي حج بدل كولي سي اوكه نه؟ سوال: (۸٦\) زماعمر اويا كاله دي زما نظر بيخي ضعيف دي اووځ په ورځ مي ليدل كمزوري كيږي اونوره كمزورتيا هم سته، سرمي ګرځي نوزه دحج څخه معذوره يم اوكه نه؟ كه زه خپل نائب دحج دپاره وليږم نودحج فرض مي اداء سول اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي ستاسي دخوا څخه دبل سړي حج كول جائزدي اوصحيح دي ځكه چي ستا عاجزي دحج دسفر كولو څخه ښكاره ده په درمختاركي دي چي: والمركبة منهما كحج الفرض تقبل النيابة عند العجز فقط لكن بشرط دوام العجز الى الموت لانه فرض العمر الخ ([1]). غرض داچي ته دخپل طرف څخه حج كولي سي خو ښه داده چي په داسي سړي حج وكي چي خپل حج يي مخكي كړي وي اودحج داحكامو څخه خبروي: والافضل احجاج الحر العالم بالمناسك الذى حج عن نفسه ([2]). فقط

زيد په شروع كي دغفلت دوجه څخه حج ونه كړي سو هغه اوس دسفر توان او طاقت نه لري نو حج بدل كولي سي اوكه نه؟ سوال: (۸۷\) كه مالدار زيد دغفلت په وجه حج ونه كړي تردي چي شيخ فاني سو، نوكه زيد دخپل طرف څخه څوك ليږي نوحج اداء كيږي اوكه نه؟

جواب: په دي حالت كي كه هغه دخپل طرف څخه څوك ليږي دحج دپاره چي دده دپاره حج وكړي نوصحيح دي حج يي اداء سو ([3]). فقط

بغير دتقسيم دتركه څخه حج بدل كول صحيح دي اوكه نه؟ سوال: (۸۸\) كه بي دتقسيم دزر او نغدو روپو يا دزيوراتو متعلق دفرائضو ددي مال څخه زيد حج بدل وكړي نوجائز دي اوكه نه؟ اوكم چي غرض اوثواب دحج بدل دي هغه هندي ته حاصل دي يعني كولي سي او كه نه؟

جواب: زيد ته داجائز نه دي چي دتركه دتقسيم څخه بغير حج بدل وكړي ياصدقه او خيرات دايصال ثواب دپاره وكړي، البته دخپلي حصي څخه اويا هغه چي بالغ وارث وي اوراضي‌وي‌دهغه په حصه‌كي‌حج بدل كولي‌سي‌اوهم‌صدقه اوخيرات‌كولي‌سي دنابالغانو

= (ردالمحتار كتاب الحج ج۲ ص ۱۹۱ ، ط. س. ج۲ ص **۴۵۲**) اذا اراد الرجل ان يحج بمال حلال فيه شبهة يستدين للحج ويقضي دينه من ماله كذا في فتاوٰی قاضي خان (عالمگيري كتاب الحج باب اول ج۱ ص **۲۰۵**). ظفير

[1]. الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج۲ ص ۳۲۲ ، ط. س. ج۲ ص **۵۹۸**. ظفير

[2]. ردالمحتار باب الحج عن الغير مطلب في حج الضرورة ج۲ ص ۳۳۱ ، ط. س. ج۲ ص **۲۰۳**. ظفير

[3]. والحاصل ان من قدر على الحج وهو صحيح ثم عجز لزمه الاحجاج اتفاقا (ردالمحتار باب الحج عن الغير ج۲ ص **۳۳۷**). ظفير

په حصه کی یی نسی کولی دغه حصه علیحده کول په کاردی (١). فقط

په چاچي حج فرض نه وی ده ته دحج دثواب بخښل څنګه دی؟ **سوال**: (٨٩١) که پر یو سړی حج فرض نه وی اومړ سی، اودهغه وارث فرضی حج ته ولاړی، چی هغه مکی معظمی ته ورسیدی نودمکی دیو اوسیدونکی څخه یی حج واخیستی چی ددی ثواب دی مورث ته ورسیږی نوصحیح دی اوکه نه دی؟ اومورث متوفی ته دنفلی حج ثواب ور رسیږی اوکه نه؟

جواب: داخو جائز دی چی مکی معظمی ته ورسیږی یو سړی ته خرچه ورکړی اودده څخه نفلی حج وکړی ثواب یی مړی ته ورسیږی، مګر ده ته شرط دادی چی دغه سړی دحج کوونکی داحرام تړلو په وخت ددی میت دطرف څخه دحج نیت وکړی اوددی دطرف څخه احرام وکړی اودا درست نه دی چی دی دي اول کړی حج خرید کړی اوبیا دی ثواب مړی ته ورسوی ځکه چی دحج بیع اوشراء نسی کیدی.

که ورثه وو حج بدل وکړی نو څه حکم دی؟ **سوال**: (٩٠١) څه ویلی دی علماء ددین په دی مسئله کی په موجب دشرعی شریف په جواب مو معزز وفرمایاست، یوصاحب مړسو الله ﷾ دی رحمت پر وکړی دهغه وارثانو دهغه دطرف څخه حج بدل وکی حال داچی هغوی وصیت هم نه دی کړی، نوآیا دمیت حج اداء کیږی اوثواب ورته ورسیږی ؟

جواب: دامام ابو حنیفه ﷬ مذهب دادی چی که پرمیت باندی حج وی اوهغه وصیت ونه کی نودده ورثه وو ته مناسب دی چی دمیت دطرف څخه حج وکی نوپه دی کی دده امید دی چی ادا سوی دی او ورثه وو ته ثواب حاصل سو. قال الشامی ففی مناسك السروجی لو مات رجل بعد وجوب الحج ولم یوص به فحج رجل عنه او حج عن ابیه او امه عن حجة الاسلام من غیر وصیة قال ابو حنیفة ﷬ یجزیه انشاء الله تعالٰی (وبعد الوصیة یجزیه من غیر المشیئة آهـ) وفیه ایضا عن اللباب وان لم یوص به فتبرع عن الوارث وكذا من هم من اهل التبرع فحج ای الوارث ونحو بنفسه ای عنه او حج عنه غیره جاز والمعنی جاز عن حجة الاسلام انشاء الله تعالٰی الخ فقط والله اعلم، شامی ج٢ ص ٣٢٨.

---

(١). تتعلق بترك المیت حقوق اربعة مرتبة الاول یبدأ بتكفینه وتجهیزه من غیر تبذیر ولا تقتیر ثم تقضی دیونه من جمیع ما بقی من ماله ثم نفذ وصایاه من ثلث ما بقی بعد الدین ثم یقسم الباقی بین ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة ﷺ (سراجی ص ٢). ظفیر

اخرج الدار قطنی عن جابر بن عبدالله ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من حجَّ عن ابیه وامه فقد قضی عن حجة وکان فضل عشر حججٍ واخرج ایضا عن زید بن ارقم ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اذا حج الرجل عن والدیه تقبل عنه وعنهما واستبشرت ارواحهما في السماء وکتب عند الله برا، دار قطنی مطبوعه فاروقی ص ۲۸۲.

حج بدل والا لومړی ددی روپی څخه حج کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۹۱) کم سړی چی هیڅکله حج نه وی کړی هغه ته که څوك دحج بدل دپاره روپی ورکړی خوهغه اجازه واخیسته چی سږ کال خپل حج کوم اوائنده کال ستا حج کوم نودا جائزدی اوکه نه؟

جواب: په حج بدل کی داضروری دی چی دکمو روپو څخه یی دحج سفر کړی وی اوچی کمی روپی یی مصرف کړی دی دهغه دطرف څخه به لومړی حج وکړی نوپه مسئوله صورت کی دآمر حج اداء نه سو. ولجواز النیابة فی الحج شرائط (الی ان قال) ومنها نیة المحجوج عنه، فتاوٰی عالمگیری جلد ۱ ص ۲۴۰ مصری. ماجدیه ج۱ ص ۲۵۷.

که روپی واخلی دا دچاپه حصه کی شمار کیږی؟ سوال: (۹۲) هندی دزید دمتروکه جائیداد څخه مبلغ شپږ سوه روپی خپل یوځوی عمر ته دخپل طرف څخه دحج داداء کولو دپاره ورکړی دغه روپی دهندی په حصه کی محسوب کیږی اوکه نه؟

۲: عمر دډیرو خلګو په مخ کی ښکاره کړه چی ماخپل یومکان خرڅ کی ددی دروپو څخه دحج دکولو اراده لری په دی صورت کی عمر ته هغه روپی چی دخپلی مور هندی څخه یی اخیستی دحج بدل دپاره واپس کول واجب نه دی؟

۳: عمرله دی څخه مخکی حج نه دی کړی حال داچی حج ورباندی فرض وو په دی حالت کی آیا دمور دطرف څخه حج بدل کول جائزدی؟

۴: دحج دوجوب دپاره داهم شرط دی چی ددری قوس تللو څخه دده طاقت وی کمو خلګو چی هندی ته دامسئله وویله چی دحج دتللو څخه یی ایسار کړل ددی دپاره څه حکم دی؟

جواب: ۱: هندی دغه روپی په خپله حصه کی ولګولی دعمر ټول ورثه ددی ذمه وارنه دی.

۲: که واقعی عمر دهندی څخه روپی نه وی اخیستی نوپه دی باندی واپسی ورته لازمه نه ده اوکه په حقیقت کی یی اخیستی وی نویا دی واپس کړی اویادی په خپل حصه کی ولګوی.

۳\: په دی صورت کی دبل طرف څخه حج کول مکروه دی لیکن که وی یی کړی نو دکم طرف څخه یی چی کړی وی دهغه حج اداء سو اودخپل طرف څخه وربانڌی بیا حج دی.
۴\: داشرط نه دی نوچی کم سړی دامسئله ویلی ده هغه غلطی کړیده آئنده دی داسی مسئله نه وایی اوکه قصداً ددوکی ورکولو دپاره یی داسی وویل نوبی شکه داسړی گنهگار دی. (١)

دپلار دطرف څخه دغیر مستطیع په ذریعه حج بدل کول څنګه دی؟ سوال: (۹۳\) زماپه مرحوم والد باندی حج فرض وو دناجوړی په وجه نه سو تللی که زه دوهم سړی چی صاحب داستطاعت نه وی دخپل پلار دطرف څخه یی دحج بدل دپاره دځان سره بوځم نو دوالد صاحب فرض اداء کیږی اوکه نه؟ اودی سړی ته هم دحج ثواب وررسیږی اوکه نه؟

جواب: که ستا والد صاحب وصیت کړی وی اومال یی پرې ایښی وی نوده ته دهغه دطرف څخه حج کول ضروری وو اودهغه فرضی حج اداء کیدی لیکن چی داسی ونه سول نوته تبرعًا دهغه دطرف څخه حج وکړه. دانښه دی او امیددی چی دهغه دطرف څخه حج اداء سوی وی اودحج ثواب به هغه ته ور رسیدلی وی نوځه تردد نسته اودحج بدل کوونکی دحج ثواب نسته، هلته چی ولاړسی عمره وغیره دی وکړی ثواب یی سته (٢). فقط

په چندی سره په حج کی چاته داویل چی دومره روپی راکړه حج بدل به درته وکړم: سوال: (۵۴\) زید دخلګو څخه روپی دحج بدل کولو دپاره دخیرات په توګه غواړی چی په دی کی یی دحج مصارف تقریبًا پوره کړی دی دبکر حج بدل ته ضرورت دی زید بکر ته وایی چی صرف سل روپی ماته راکړه زه به ستا دخوا حج بدل وکړم په دی صورت کی دبکر دخوا حج بدل وسو اوکه نه؟ اودبکر دذمی څخه فرض ساقط سو اوکه نه؟ همدارکم بکر

(١). فجاز حج الضرورة من لم يحج الخ وغيرهم اولى لعدم الخلاف (درمختار) قال في الفتح بعد ما أطال في الاستدلال والذي يقتضيه النظر ان حج الضرورة عن غيره ان كان بعد تحقق الوجوب عليه بملك الزاد والراحلة والصحة فهو مكروه كراهة تحريم الخ ومع ذلك يصح لان النهى ليس لعين الحج المفعول بل لغيره وهو الفوات (رد المحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٣١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٣). ظفير
(٢). فلا يجوز حج الغير بغير اذنه الا اذا حج او احج الوارث عن مورثه لوجود الامر دلالة (درمختار) ولامعنى جاز عن حجة الاسلام انشاء الله تعالى الخ وهذا مقيد بالمشية ففى مناسك السروجى ولو مات رجل بعد وجوب الحج ولم يوص به فحج رجل عنه او حج عن ابيه او امه عن حجة الاسلام من غير وصية قال ابو حنيفة رحمه الله يجزيه انشاء الله وبعد الوصية يجزيه من غير المسيئة آه ثم اعاد في شرح اللباب المسئلة في محل اخر وقال فلو حج عنه الوارث او اجنبى يجزيه وتسقط عنه حجة الاسلام انشاء الله لانه ايصال للثواب الخ (ردالمحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٢٩ ، ط. س. ج٢ ص ٥٩٩ و ٢٠٠) . ظفير

غواړي چې دغه قسم دڅو کسانو سل سل روپۍ ورکړي چې دخپل طرف څخه حج بدل وکړي ددې څه حکم دی چا ته چې دحج بدل دپاره روپۍ ورکړي اوهغه حج ونه کی نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟ اوپه حج کی دمزار شريف زيارت فرض ياواجب خونه دی؟ آيا ددې هم بدل کيدی سی؟

جواب: دحج بدل دپاره ضروري ده چې دسفر حج ټوله خرچه پوره حج کوونکی ته ورکړي چې دحج ورلره کوونکی سړی دکور څخه ترمکې وغيره ټول خرڅونه اودبيرته دراتلو خرچه دحج ورلره کوونکی په مال کی وی که داسی نه وی نوحج بدل نه اداء کيږي، او دنفلو ثواب يی کيږي اوکه دحج بدل کولو والا ته روپۍ ورکول سی اوهغه يې دآمر دخوا څخه ونه کی نودآمر حج اداء نه سو (١)، اوګناه په مامور باندی سوه يعنی پرده باندی چې حج وو اووی يی نه کړی نودی مواخذه دار سو، اوپه حج بدل کی دروضه اطهر زيارت داخل نه دی که هغه سړی چې دحج بدل دپاره يی ليږلی دی زيارت دروضه اطهر وکړي نودده دپاره ډيره ښه ده اودثواب موجب دی خوپه دی کی نيابت اوبدليت نسته که چا زيارت وکړي دهغه به ثواب وی اوکه چا ددی دپاره روپۍ ورکړي وی دهغه دصدقی ثواب وسو.

يوسړی دحج په ارادې ووتی مګر دڅه وجه څخه بيرته راغی نوآيا دغه روپۍ په جومات او يا مدرسه کی مصرفول درست دي؟ سوال: (٩٥) يوسړی دحج په ارادې دکور څخه روان سو په لاره کی په څه وجه سره بيرته کور ته راغی هغه اوس مريض قريب الموت دی نودغه روپۍ په جومات يامدرسه کی مصرف کول جائزدی؟

جواب: پرده باندی حج لازم دی ځکه چې پرده باندی حج فرض دی اوکه پخپله يی نسی کولی نو دخپل طرف څخه دی بل څوك دحج کولو دپاره وليږي اودغه روپۍ په نورو شيانو کی لکه مدرسه اوجومات وغيره کی مصرف کول جائزنه دی (٢).

دپرده کوونکی ښځی چې محرم نه وی آيا حج بدل کولی سی؟ سوال: (٩٦) ديوی پرده داری ښځی سره مال دی لکن محرم نسته نوحج بدل کولی سی اوکه نه؟

٢\ : بغير دشرعی محرم څخه دنورو خلګو سره حج کول جائزدی اوکه نه؟ که څه هم دلاری

---

(١). وبقى من الشرائط النفقة من مال الآمر الخ (درمختار) اى المحجوج عنه (ردالمحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٢٨)، ويشترط نية الحج عنه اى الامر فيقول احرمت عن فلان الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٦٠٠). ظفير

(٢). والمركبة منهما الحج الفرض تقبل النيابة عند العجز فقط لكن بشرط دوام العجز الى الموت الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٥٩٨). ظفير

دتكليف په سبب پرده ساتل سخت دی.

جواب: ١\، ٢: كه محرم نه وی چی ورسره ولاړسی نوحج ورباندی فرض نه دی اودمحرم شرعی څخه بغير تلل اودحج سفر كول صحيح نه دی اوپر ده باندی حج فرض نه دی اونه حج بدل كول ورباندی لازم دی اوكه محرم وی او ورسره تللی سی نوحج ته تلل پخپله فرض دی دشرعی پردی حتی الوسع بايد خيال وساتل سی او دپردی دنه ساتلو په وجه حج نه ساقطيږی كله چی حج فرض سی اومحرم موجود وی چی ورسره تللی سی نودحج كول په كاردی دضروری پردی دی پخپله خيال وساتل سی اودغير ضروری پردی پابيندی دي نه كوی [١]. فقط

حج بدل: **سوال**: (٩٧\) زيد ديو عذر په وجه دخپل طرف څخه يو بل متكفل ته مصارف دامير څخه دحج دفريضی داداء كولو دپاره وركول غواړی ايا دا حج عن الغير جائز دی اوكه نه دی؟ ددغه صورت دجواز پرتقدير ، دلاری په توښه كی بايد څه لحاظ او اعتبار وكړل سی اميرانه كه متوسط يا بقدر كفايت؟

جواب: په فرضی حج كی دخپل ځان پرځای په بل څوك ليږلو كی داشرط دی چی پخپله هيڅ قسم حج نسی كولی بالكل معذوره وی دعذر په صورت كی څوك دخپل ځان دطرف څخه نيابة وليږی نودسفر مصرف دی وركړی، دلاری په توښهٔ كی داشرط نه دی چی اميرانه دی وركړی يامتوسط ياپه قدر دكفايت، په كم ډول چی كونكی راضی كيږی هم هغه شان دی خرچه وركړی دامال پر آمر باندی وركول په كاردی كه آمر اميرانه خرڅ وركی داهم صحيح دی يامتوسط خرڅ وركړی ياي‍ې په قدر دكفايت وركړی اومامور راضی سی نوهم جائزدی غرض داچی مامور دڅه ډول مصرف عادی وی اوڅه ډول چی ده ته اسانه وی هم هغه كاردی وكړی [٢].

دنفل حج بدل كول څنګه دی؟ سوال: (٩٨\) زيد اودهغه والدينو فرضی حج ادا كړی دی اوس زيد غواړی چی دخپل ځان دطرف څخه اودمور اودپلار دخوا څخه چی مرحومين دی حج بدل نفلی وكړی اودری واړه دمكی اوسيدونكی دی اودمكی څخه احرام دحج

---

[١]. هوالخ فرض ؎ علی مسلم ؎ حر مكلف ؎ ومع زوج اومحرم الخ بالغ الخ عاقل ؎ غير مجوسی ولا فاسق ؎ لامراة حرة ولو عجوزا فی سفر الخ وهل يلزمها التزوج قولان ؎ ولو حجت بلا محرم جاز مع الكراهة ؎ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الحج ج٢ ص ٢٠٠ ، ط. س. ج٢ ص ٤٥٤ و٤٢٥) والمركبة منهما كحج الفرض تقبل النيابة عن العجز فقط لكن بشرط دوام العجز الی الموت لانه فرض العمر الخ (باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٢٧ ، ط. س. ج٢ ص ٥٩٨). ظفير

[٢]. ومن الشرائط النفقه من مال الآمر كلها اواكثرها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ط. س. ج٢ ص ٢٠٠) . ظفير

بدل نفلی وتړی نوآیا دزید دطرف څخه چی ژوندی دی حج بدل نفلی جائزدی اوکه نه؟ او دحج بدل ثواب هغه ته رسیږی اوکه نه؟

جواب: قوله: لم یجز ای عن الفرض وان وقع نفلا للامر افاده فی البحر قال الحموی ومن هنا یؤخذ عدم صحة ما یفعله السلاطین والوزراء من الاحتجاج عنهم لان عجزهم لم یکن مستمرا الی الموت ؒ او بعدم عجزهم اصلا والمراد عدم صحته عن الفرض بل یقع نفلاً الخ شامی (١). نومعلومه سوه چی دنفلی حج ثواب په دی طریقه باندی حاصلیږی. فقط

په ژوندانه کی حج بدل: **سوال**: (٩٩) حج درباندی فرض دی نوپرخپل ځای باندی بل سړی دده دطرف څخه په کم حالت کی حج اداء کولی سی؟

جواب: کله چی پخپله نسی تللی دعمر دډیروالی په سبب سفر نه سی کولی یا دمرض په وجه، نوبل سړی یی ورته کولی سی مګر دمرض په صورت کی که بیا روغ اوتندرست سی اویا دامرض داسی وی چی صحت یی ممکن وی نودوباره به پخپله حج وکړی. کذا فی الدرالمختار، فقط

په حج بدل کی دمصرف دکموالی په وجه دغیر میقات څخه داحرام تړل: **سوال**: (١٠٠) دحج بدل کولو والا که چیری دلاری دتوښی دکموالی په وجه دآمر دمیقات څخه حج ونه کی نودخپل میقات څخه یا دبل میقات څخه احرام تړلی سی اوکه نه؟

جواب: په حج بدل کی داضروری ده چی دآمر دوطن څخه سفر شروع کړی خوکه چیری دلاری دمصرف دکموالی په وجه دبل داسی ځای څخه چی مصارف یی بس کیږی دحج سفر شروع کړی داکار درست دی. وان لم یکف فمن حیث یبلغ الخ (٢). اواحرام به یی دآمر دمیقات څخه وی اودلاری دمصارفو دکموالی په صورت کی به دهغه لاری څخه ولاړ سی اوسفر وکړی، اودکم میقات څخه چی تیریږی باید چی احرام یی تړلی وی په دی حالت کی شرط دادی چی دومره به ورته معلومه وی چی دده حج دافاقی دی اودکم میقات څخه باید احرام تړی، حج به یی دمکی نه وی.

دوصیت څخه بغیر دنابالغ دمال څخه حج بدل درست دی اوکه نه؟ **سوال**: (١٠١) زما ورور عمر علی وفات سوی دی اوهغه ډیر مالداره وو مګر دحج وصیت یی نه دی کړی اودهغه وارثان څلور زامن دی چی یویی بالغه اودری نور نابالغه دی اودری یی ښځی اوپنځه یی

---

(١). کحج الفرض تقبل النیابة عند العجز فقط لکن بشرط دوام العجز الی الموت لانه فرض العمر حتی تلزم الاعادة بزوال العذر (درمختار) ای العذر الذی یرجی زواله کالحبس والمرض بخلاف نحو العمی فلا اعادة لو زال علی مایاتی (ردالمحتار باب الحج عن الغیر ج٢ ص ٣٢٧، ط. س. ج٢ ص ٥٩٨). ظفیر

(٢). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغیر ج٢ ص ٣٣٣، ط. س. ج٢ ص ٢٠٥. ظفیر

لونی دی نوپه دی صورت کی ورڅخه دحج کولو څه حکم دی اودیتیم مځکه په ټیکه ورکول اودمورث قرض اداء کول څنګه دی؟

جواب: کم امور چی دیتیم متعلق فائده مندوی دهغه کول درست دی مثلا دهغه مځکه په اجاره ورکول که چیری دګټی موجب وو هغه درست دی، اوحج کول دیتیم دبرخی څخه چی متوفی وصیت کړی نه وی درست نه دی، اودبالغانو پر ذمه هم لازم نه دی البته که بالغان دخپلو برخو څخه دمړی دطرف څخه حج وکړی نو دابنه ده خوفرض اوواجب نه ده (١) اودکمو خلګوقرض چی دمړی په ذمه دی هغه به اداء سی دټولی مشترکی ترکی څخه به قرض اداء کیږی او زکات دنابالغو ماشومانو په برخه کی واجب نه دی.

دحج بدل په روپی تجارت کول درست دی اوکه نه؟ سوال: (١٠٢) هنده مالداره ده پرکمی چی حج فرض دی، مګر ددنیوی کاروبار په وجه یی په خپل ژوند کی حج اداء نه کی وصیت یی وکی چی زما دطرف څخه حج وکی فاطمه چی ددی لور او وارثه ده دی زید ته دری سوه روپی دحج داداء کولو دپاره ورلره ورکړی چی زما دوالدی دطرف څخه حج وکی، زید روپی ځینی واخیستی لیکن څه رکم چی لاره بنده ده نو ددغه وجه څخه یی روپی عمر ته ورکړی چی تجارت باندی وکی، تجارت شروع سو او ګټه یی هم وکړه څه رکم چی دی روپو ګټه کړی زید زکات ځینی ورکی، څه وخت وروسته فاطمی زید ته وویل چی ماته داوخت دروپو ضرورت دی روپی می راکړه وروسته به بیازه روپی درکړم زید بیرته ورکړی، آیا دزید په دی روپو سره تجارت او ددی روپو دګټی څخه دزکات اداء کول اودفاطمی ورڅخه بیرته غوښتل څنګه دی اوهم دارکم دباقی ګټی مستحق څوك دی؟

جواب: کله چی مامور بالحج یعنی زید دلاری دخرابوالی په وجه حج ونه کی نودده په ذمه باندی دروپو بیرته ورکول لازم دی یعنی فاطمی ته یی بیرته ورکول لازم دی بیاکه چیری یی دفاطمی په اجازه تجارت شروع کړی وی اوزکات یی ورڅخه اداء کړی وی نودا جائزده، اوروپو چی څه ګټه کړی وی هغه دفاطمی حق دی اودفاطمی دپاره په دی صورت کی درپو بیرته اخیستل صحیح دی، لیکن دفاطمی ذمه واری ده چی دابه دهندی دطرف څخه حج کوی، دهندی دریمه برخه مال په حج باندی لګولی سی ددریمی برخی څخه دزیاتو روپو لګول دفاطمی په اختیار کی دی چی ورکوی یی اوکه نه. فقط

(١). لومات رجل بعد وجوب الحج ولم یوص به فحج رجل عنه اوحج عن ابیه اوامه عن حجة الاسلام من غیر وصي قال ابو حنیفة رحمه الله یجزیه انشاء الله وبعد الوصیة یجزیه من غیر المشیة (ردالمحتار باب الحج عن الغیر ج٢ ص ٣٢٨ ،ط. س. ج٢ ص ٦٠٠). ظفیر

(١)

دوالدينو دطرفه چي حج بدل وکړل سي نوثواب يي کيږي اوکه نه؟ سوال: (١٠٣) زيد دخپل مور اودپلار دوفات څخه وروسته دهغوی دطرف څخه دحج بدل کول غواړی نو هغوی ته يي ثواب رسيږي اوکه نه؟

جواب: فقهاوو په دی باره کی داسی ليکلی دی چي دمتوفی دوصيت څخه بغير که چيری ورثه دهغه دطرف څخه تبرعًا حج وکړی نواميد سته چي ان شاء الله دهغه دطرف څخه به اداء سی اوفرضيت به يي ساقط سی که څه هم يقينی نه ده اودثواب په حصول کی هيڅ تردد نسته لکه چي په شامی کی دی: کمافی الشامی وان لم يوص به الخ فتبرع عنه الوارث الخ ای الوارث ونحوه بنفسه اواحج عنه غيره جاز الخ قال ابو حنيفة رحمه الله يجزيه ان شاء الله تعالی الخ (٢). فقط

پرهنده باندي حج فرض وو اودوصيت څخه بغير مړه سوه اوس دهغې زوی دهغه دطرف څخه حج بدل کوی نودا کافي دي اوکه نه؟ سوال: (١٠٤) پرهنده باندی حج فرض وو هغه مړه سوه خوهغې دحج وصيت نه وو کړی، اوس دهغې زوی زيد دهغې دطرف څخه حج بدل کول غواړی زيد دخپل کور څخه يوسړی حج ته ليږی چي وصيت يي نه دی سوی داحج بدل ضروری دی اوکه نه؟ اوکه چيری دمکی معظمی څخه يو سړی حج وکړی نودمور دطرف څخه يي اداء کيږی اوکه نه؟ اوپه داسی حج کی مدينی منوری ته تګ ضروری دی اوکه نه؟

جواب: کله چي دمتوفی وصيت نه وی نووارث چي دهغه دطرف څخه حج وکړی نوداتبرع اونيکی ده، اودمکی معظمی څخه هم کيدی سی اومدينی منوری ته په داسی حج کی تګ ضروری نه دی (٣). فقط

کم سړي چي فرضي حج اداء کړي نه وي دهغه ليږل په حج بدل کی څنګه دی؟ سوال: (١٠٥) چاچی فرضی حج اداء کړی نه وی دهغه په حج بدل کی ليږل اودهغه حج بدل څنګه دی او کم عالم چي ورته مکروه وايي په هغه باندی تورونه لګول او غير مقلد ورته

(١). خرج المكلف إلى الحج ومات في الطريق وأوصى بالحج عنه إنما تجب الوصية به إذا أخره بعد وجوبه ﷺ فإن فسر المال أو المكان فالامر عليه أي على ما فسره وإلا فيحج عنه من بلده ﷺ إن وفى به أي بالحج من بلده ثلثه (درمختار) ای من ثلث مال الموصی الخ (ردالمحتار کتاب الحج باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٣٢ - ٣٣٣ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٤ و٢٠٥) . ظفير

(٢). ردالمحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٢٨ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٠. ظفير

(٣). وان لم يوص به ای بالاحجاج فتبرع عنه الوارث الخ فحج بنفسه او احج عنه غيره جاز (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج٢ ص ٣٣١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٢). ظفير

ویل ځنګه دی؟ اوپه تور لګولوونکی باندی شرعا څه حکم کول په کاردی؟

جواب: حج بدل کول دداسی سړی دپاره کم چی حج نه وی کړی صحیح دی لیکن ښه داده چی په داسی سړی باندی حج بدل وکړی چی خپل فرضی حج یی کړی وی نو دداسی سړی حج بدل کول چی خپل فرضی حج یی نه وی کړی مکروه تنزیهی دی لکه څنګه چی ددرمختار دعبارت څخه افاده کیږی: فجاز حج الضرورة بمهملة من لم یحج الخ وغیرهم اولی الخ. درمختار (١) علامه شامی دمحقق ابن الهمام څخه نقل کړی دی چی دداسی سړی څخه دی حج بدل وکړل سی که چیری هغه دحج دفرضوالی باوجود دخپل طرف څخه حج نه وی کړی نودده په حق کی بیا مکروه تحریمی دی، نوحاصل دادی چی دآمر په حق کی دافعل مکروه تنزیهی دی اودحج کوونکی په حق کی کله چی حج ورباندی فرض وی مکروه تحریمی دی ځکه چی هغه دخپل حج دنه اداء کولو اودتاخیر کولو په وجه ګنهګار دی لهذاء په مکروه ویونکی عالم باندی تور لګول اوبدی یی بیانول ناجائزه او ممنوع دی اوکله چی احناف په خپله دمامور په حق کی دمکروه تحریمی قائل دی، نو دمکروه ویلو والاته غیر مقلد ویل دمسائیلو شرعیه وو څخه بی خبری او دناپوهی دلیل دی په شامی کی دفتح القدیر څخه نقل دی: والذي یقتضیه النظر ان حج الضرورة عن غیره ان کان بعد تحقق الوجوب علیه بملك الزاد والراحلة والصحة فهو مکروه کراهة تحریم لانه تضیق علیه في اول سنة الامکان فیاثم بترکه الخ قال في البحر والحق انها تنزیهیة علی الآمر لقولهم والافضل الخ تحریمیة علی الصورة المامور الذي اجتمعت فیه شروط الحج ولم یحج عن نفسه لانه اثم بالتاخیر الخ (٢)، شامی ج٢ ص ٢٤١، اودحج بدل کولو والا لره دهغو روپو څخه چی هغه دحج په سفر کی دلګولو دپاره ده ته ورکول سوی دسفر دخرچی زیات ساتل په هغه صورت کی درست دی چی دروپو ورکولو والا یې بالهبه مالك جوړ کړی، دا اجازه اواختیار ورته ورکی چی زیاتی روپی دځان سره ساته په درمختار کی دی: وعلیه رد مافضل من النفقة وان شرط له فالشرط باطل الا ان یؤکله بهبة الفضل من نفسه (٣). فقط

<u>په حج بدل کی دآمر دوطن څخه آیا روانیدل ضروری دی؟</u> سوال: (١٠٦٢) حج بدل چی دچا دطرف څخه وسی چی هغه مړسوی وی اویاپه داسی حالت کی ژوندی وی چی هغه

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغیر ج٢ ص ٣٣١، ط. س. ج٢ ص ٦٠٣. ظفیر

(٢). ردالمحتار باب الحج عن الغیر مطلب فی حج الضرورة ج٢ ص ٣٣١، ط. س. ج٢ ص ٦٠٣. ظفیر

(٣). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغیر فروع ج٢ ص ٣٤٠، ط. س. ج٢ ص ٦١٢. ظفیر

دسفر قابل نه وی، یعنی چاته سل یا دوه سوه روپی ورکړل سی نو داحج جائز کیږی اوکه دهغه چا دطرف څخه چی حج کیږی دهغه داوسیدلو دځای څخه دحج دارکانو تر اداء کولو پوری دمتوسطی اندازی خرچه ورکول په کاردی؟

جواب: دحج بدل دادا کولو دشرائطو څخه داهم دی چی دچا دطرف څخه چی حج کیږی هغه به ده ته امر وکی یابه وصیت وکړی اودحج دسفر ټول مصرف اویا اکثره مال به دآمر دطرف څخه وی اودا خبره چی دآمر دوطن څخه به حج کیدلی سی په درمختار کی دی: وبشرط الامر به ای بالحج عنه فلا یجوز حج الغیر بغیر اذنه الا اذا حج او احج الوارث عن مورثه لوجود الامر دلالة وبقی من الشرائط النفقة من مال الآمر کلها او اکثرها الخ (١). وفی ردالمحتار للشامی الحادی عشر ان یحج عنه من وطنه ان التسع الثلث والا فمن حیث یبلغ کما سیاتی بیانه الخ (٢) ص ٣٣٩. فقط

دښځی دخوا څخه سړی او دحنفی دطرف څخه غیر مقلد حج کولی سی اوکه نه؟ سوال:

(١٠٧) دښځی دطرف څخه سړی حج کولی سی اوکه نه؟ او دحنفی دطرف څخه غیرمقلد حج کولی سی اوکه نه؟

جواب: دښځی دطرف څخه سړی هم حج بدل کولی سی او دمقلد دطرف څخه غیر مقلدهم حج کولی سی (٣). فقط

آیا دحج بدل دپاره داولاد لیږل ښه دی؟ او ددی روپو څخه قرض ورکول درست دی اوکه نه؟

سوال: (١٠٨) قاسم دځان څخه وروسته دپنځو سوو زرو روپو جائیداد پریښووی او دحج بدل وصیت یی وکی څه وخت وروسته دقاسم اولاد جائیداد تقسیم کی اودحج بدل روپی یی جلا کښی ښوولی څوکاله وروسته یې دیوه سړی څخه دحج ارکان پوره کړل وروسته یی دامعلومه کړه چی چیری چی قاسم اوسیږی دهغه دطرف څخه څوك لیږل غواړی بلکی ښه داده چی دقاسم دطرف څخه دهغه اولاد حج بدل وکړی داخبره صحیح ده اوکه نه؟ اوکمی روپی یی چی دحج بدل دپاره جلا کړی دی دهغه څخه چاته حسنه ورکول یایی په خپل کارکی لګول درست دی اوکه نه؟

---

(١). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغیر ج٢ ص ٣٢٨ ، ط. س. ج٢ ص ٥٩٩. ظفیر

(٢). ردالمحتار باب الحج عن الغیر ج٢ ص ٣٢٩ ، ط. س. ج٢ ص ٥٩٩. ظفیر

(٣). والأفضل للإنسان إذا أراد أن یحج رجلا عن نفسه أن یحج رجلا قد حج عن نفسه ﷺ ولو أحج عنه امرأة أو عبدا أو أمة بإذن السید جاز ویکره هکذا فی محیط السرخسي (عالمگیری کشوری کتاب المناسك الباب الرابع عشر فی الحج عن الغیر ج١ ص ٢٢٣ – ٢٢٤ ، ماجدیه ج١ ص ٢٥٧) فجاز حج الضرورة الخ والمرأة ولو امة والعبد وغیرهم کالمراهق وغیرهم اولی لعدم الخلاف (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغیر ج٢ ص ٣٣١ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٣). ظفیر

جواب: دقاسم په اولاد کی دیوچا دحج بدل دپاره یی لیږل ضروری نه دی په نسبت سره وغیر ته په دی باره کی دده کم زیات استحقاق نسته، اودابی له شکه ضروری ده چی دحج بدل دپاره دقاسم دوطن څخه څوك ولیږل سی اوکمی روپی چی دحج بدل دپاره جلا ساتل سویدی هغه په حج کی صرف کول په کاردی، اوپه تلوار سره دیوچا دلیږلو انتظام په کاردی چاته دغه روپی قرض ورکول اویایی په خپل کار لګول جائزنه دی (١). فقط

چاچی مخکی حج نه وی کړی اوبل یوه کړی دی نوپه دوی کی کم یودحج بدل دپاره لیږل په کاردی؟ **سوال**: (١٠٩١) یوسړی چی مخکی یی حج نه دی کړی دهغه حج کول څنګه دی؟ اوکم سړی چی مخکی حج کړی وی اوهغه دښه حال خاوند وی دهغه حج بدل کول څنګه دی؟

جواب: دهغه سړی حج بدل کول چی مخکی یی حج کړی وی ښه او افضل دی، اومخکی سړی چی حج یی نه دی کړی حج بدل کول یی مکروه دی کذا فی الدر المختار والشامی (٢) فقط.

په حج بدل کی چی څوک ولاړ سی اوپه لاره کی مړسی نواوس به څه کوی؟ **سوال**: (١١٠١) یوسړی په حج بدل کی بل سړی دځان دطرف څخه حج ته ولیږی هغه سړی په لار کی وفات سو، مکی معظمی ته ونه رسیدی په داسی صورت کی دلیږلو والا حج پوره سو او که نه؟ دده لپاره څه کول په کاردی؟

جواب: دده حج نه دی سوی که چیری دده پرذمه باندی حج ؤ نودده دپاره بل سړی لیږل اودحج بدل کول په کاردی یعنی کله چی پخپله نه سی تللی اوپخپله دحج کولو څخه عاجزه وی. (٣) فقط

په حج بدل کی دچا لیږل مکروه تحریمی دی؟ **سوال**: (١١١١) کم سړی چی حج نه وی کړی دهغه دپاره په حج بدل کی تګ مکروه تحریمی دی پوښتنه په دی کی ده چی که چیری دوس او دطاقت خاوند په حج بدل کی ولیږل سی دهغه دپاره مکروه تحریمی دی اوکه په هغه سړی باندی چی دوس او دطاقت په لحاظ ورباندی حج فرض نه وی لیکن هغه د

---

(١). اما اذا لم یخرج واوصی بان یحج عنه الخ فانه یحج عنه من ثلث ماله من بلده (ردالمحتار باب الحج عن الغیر ج٢ ص ٣٣٢، ط. س. ج٢ ص ٢٠٤). ظفیر

(٢). فجاز حج الضرورة من لم یحج ؒ وغیرهم اولی لعدم الخلاف (درمختار) ای خلاف الشافعی فانه لا یجوز حجهم کما فی الزیلعی ولا یخفی ان التعلیل یفید ان الکراهة تنزیهیة لان مراعاة الخلاف مستحبة فافهم (رد المحتار باب الحج عن الغیر ج٢ ص ٣٣١، ط. س. ج٢ ص ٢٠٣). ظفیر

(٣). والحج فرضه ثلاثة الاحرام والوقف بعرفة ؒ ومعظم طواف الزیارة وهما رکنان ؒ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحج ج٢ ص ٢٠٢، ط. س. ج٢ ص ٤٢٧). ظفیر

بیت الله دزیارت کولوپه شوق او جذبه په حج بدل کی تگ غواړی نوپه دوی کی کم یو په شرعی توگه مکروه نه دی ؟

جواب: پرکم چی دمخکی څخه حرج فرض سوی وی نو دهغه په حج بدل کی تگ په اتفاق سره مکروه تحریمی دی اوپه چاچی حج فرض نه دی اودحج کولو وس هم نه لری نوپه ده باندی دمحققینو علماؤ په نزد چی کله مکی ته ورسیږی حج فرض کیږی دهمدی وجه دی هم ددی علماؤ په نزد دفرضو دترك کولو په وجه دمکروه تحریمی مرتکب سوی دی لکه څنگه چی په شامی کی دبدائع څخه منقول دی: یکره احجاج الضرورة لانه تارك فرض الحج یفید انه یصیر بدخول مكة قادراً علی الحج عن نفسه الخ قلت وقد افتی بالوجوب مفتی دار السلطنة العلامة ابو السعود وتبعه في سكب الانهر وكذا افتی به السید احمد بادشاه او الف فیه رسالة الخ (١). په هرحال کم سړی چی خپل حج اداء کړی نه وی دهغه دپاره دحج بدل په هیڅ صورت کی دمکروه والی څخه خالی نه دی مطلب دا دی چی په هغه صورت کی دخپل وس اودطاقت خاوند نه وی دبعضو په نزد مکروه تنزیهی دی، اودهغو عالمانو په نزد چی مکی معظمی ته ورسیږی حجورباندی فرض کیږی مکروه تحریمی ورته وایی اوپه هغه صورت کی چی وس اوطاقت یی وی په اتفاق دتیولو مکروه تحریمی دی. فقط

<u>دحج بدل دپاره یی چی کمی روپی ورکړی هغه کمی دی نوڅه وکړی؟</u> سوال: (١١٢) زید عمر ته دوه نیم سوه روپی ورکړی دی چی زما دمرگ څخه وروسته زما دطرف څخه حج وکړه شپږ میاشتی وروسته هغه مړسو، دوفات څخه دری ورځی مخکی ورته معلومه سوه چی په دی روپو څه وکړی؟ جواب یی ورکی چی په دی به حج کوی، خلگو وویل چی په دومره روپو خوحج نه کیږی جواب یی ورکی چی دعمر اختیاردی چی په کمه طریقه یی مصرفوی لگولی یی سی اوپه دی ورځ یی پنځوس روپی عمر ته ورکړی چی زما په کفن اونورو کی یی مصرف کړه زید یوځوی اویوه کونډه پریښوول، یوسړی په دری سوه روپی حج بدل کولو ته تیاردی، نوکه چیری عمر پنځوس روپی دخپل طرف څخه ورسره شاملی کړی اوحج وکړی ددی څه باك سته اوکه نه؟

جواب: که چیری ذکر سوی مال یعنی ٢٥٠ روپی دترکی ددریمی برخی څخه زیاتی نه وی نودغه روپی دی په حج باندی ولگول سی اوپه دغه صورت کی چی مذکوره روپی دمړی دوطن څخه دحج دپاره کافی نه وی داحکم دی چی دکم ځای څخه چی کیدی سی

(١). ردالمحتار باب الحج عن الغیر مطلب فی حج الضرورة ج٢ ص ٣٣٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٠٢. ظفیر

دهغه ځای څخه دی حج وکړی په درمختار کی دی: والا فیحج عنه من بلده الخ ان وفٰی به الخ ثلثه وان لم یف فمن حیث یبلغ [1]. باقی چی عمر دخپل طرف څخه ورسره پنځوس روپی شاملوی په دی کی درواياتو اختلاف دی دجواز روايت هم سته لهذا په حج کولو کی یی کم باك نسته فائده پکښی سته په درمختار کی دی: وکذا لو احج لا لیرجع کالدین اذا قضاه من مال نفسه الخ درمختار قوله وکذا لو احج لا لیرجع، ای انه یجوز الخ. شامی [2]. فقط

دمجبوری په وجه حج بدل کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۳/) پرزید باندی دزاد اودراحلی په اعتبار سره حج فرض دی لیکن هغه په دی وجه چی بوډا او ړوند دی دحج دکولو څخه عاجزه دی او دبیوونکی دخرچی وس نه لری نودبل سړی څخه هغه حج بدل کولی سی اوکه نه؟

جواب: ذکر سوی سړی ته دبل څخه په شرائطو حج جائز دی او دمعذوره فرضی حج اداء کیږی په درمختار کی دی: والمرکبة منهما کحج الفرض تقبل النيابة عند العجز [3] الخ. فقط

هغه سړی چی نه ورباندی حج فرض وی اونه یی کړی وی ایا دداسی سړی په حج بدل کی لیږل درست دی؟ سوال: (۱۱۴/) هغه سړی چی حج یی نه وی کړی اوحج ورباندی فرض نه وی که چیری دیو سړی دطرف څخه چی دفرض حج داداء کولو څخه مخکی مړ سی او وصیت یی کړی وی چی دده دطرف څخه حج وکړی، حج بدل اداء کړی دمړی دذمی څخه مذکوره حج اداء کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دمړی دذمی څخه ساقط اواداء کیږی البته حنفی فقهاوو دا صورت مکروه ګڼلی دی، ښه داده چی داسی سړی دی حج بدل وکړی چی هغه خپل فرضی حج اداء کړی وی [4]. فقط

دحج بدل څخه وروسته آیا دآمرځای ته راتلل سته؟ سوال: (۱۱۵/) دحج بدل څخه وروسته

---

[1]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج۲ ص ۳۳۳ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۵. ظفير

[2]. ردالمحتار باب الحج عن الغير ج۲ ص ۳۳۴ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۲. ظفير

[3]. الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحج عن الغير ج۲ ص ۳۲۲ – ۳۲۷ ، ط. س. ج۲ ص ۵۹۸. ظفير

[4]. فجاز حج الضرورة من لم يحج والمراة الخ وغيرهم اولی لعدم الخلاف (درمختار) يكره احجاج الضرورة لانه تارك فرض الحج يفيد انه يصير بدخول مكة قادرا علی الحج عن نفسه الخ (درمختار باب الحج ج۲ ص ۳۳۱ – ۳۳۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۰۲) والافضل للانسان اذا اراد ان يحج رجلا عن نفسه ان حج رجلا قد حج عن نفسه ومع هذا الوحج رجلا لم يحج عن نفسه حجة الاسلام يجوزعندنا وسقط الحج عن الآمركذافی المحيط (عالمگيری مصری كتاب الحج باب رابع عشر ج۱ ص ۲۴۱ ، ط. س. ج۲ ص ۲۵۷). ظفير

آیا داضروری ده چی حج بدل کوونکی به دحج لیږونکی ځای ته بیرته راځی؟

جواب: دده داوسیدو ځای ته دده بیرته راتلل ضروری نه دی (١). فقط البته ښه خبره داده چی راسی.

خپل حج بل ته ورکول درست دی اوکه نه؟ سوال: (١١٦) په مکه مکرمه کی اکثره کسان خپل حجونه بل ته ورکوی آیا داجائز دی؟ که هلته یو سړی دخپلی مرحومی ښځی دپاره حج ترلاسه کړی نودا جائزدی اوکه نه؟

جواب: دحج کولو څخه وروسته دادرسته نه ده چی یو سړی ته خپل حج ورکړی اوروپی ځینی واخلی، لیکن دادرسته ده چی هلته دچا څخه دمور اودپلار او دنورو دطرف څخه نفلی حج وکړی یعنی داول څخه هغه سړی دبل چا دپاره دکم دطرف څخه چی حج کول مقصود وی احرام وتړی، دادرست دی. فقط.

شپږم باب

دمدینی منوری زیارت

دحج کولو څخه وروسته دروضه پاک حاضری سنت ده اوکه مستحب؟ سوال: (١١٧) دحج کولو څخه وروسته درسول الله ﷺ دروضی مبارکی دزیارت څه حکم دی واجب دی اوکه مستحب؟ یومولوی وایی چی په عالمگیری اوپه شامی کی مستحب لیکل سویدی آیا داخبره صحیح ده؟

جواب: داچی په کمو کتابونو کی دی صحیح دی دمدینی طیبی زیارت په مستحباتو کی دی اوبعضی علماء یی دوجوب هم قائل دی لکه څنگه چی په درمختار کی دی: وزیارة قبره ﷺ مندوبة بل قیل واجبة لمن له سعة الخ وفی الشامی قوله (مندوبة) ای باجماع المسلمین کما فی اللباب (٢). فقط

دحالاتو دخرابی په وجه که چیری مدینی منوری ته ولاړنه سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (١١٨) دمسلمانانو یوی ډلی دحج داداء کولو څخه وروسته خبر ترلاسه کړی چی بی انتظامی اومذموم حرکات دشریف مکه دلاسه لیدل کیږی له دې امله مسلمانان په ویره کی سول، دځان دبچ ساتلو په وجه درسول پاك ﷺ دمقدسی روضی دزیارت دنه حصول څخه مکی شریفی ته واپس سوه نودغه جماعت دمسلمانانو پرخطا اوقابل دتوبی ایستلو

(١). ولو احج رجلا یؤدی الحج ویقیم بمکة جاز والافضل ان یحج ویرجع (ایضا). ظفیر

(٢). وگوری ردالمحتار للشامی باب الهدی مطلب فی تفصیل قبره المکرم ﷺ ج٢ ص ٣٥٢ – ٣٥٣ ، ط. س. ج٢ ص ٦٢٢. ظفیر

دی اوکه نه؟

آیا پرده باندی وعید عائد کیږی؟ سوال: (۱۲\ ۱۱۹) آیا دغه جماعت تردی وعید لاندی راځی اوکه نه؟ چی په حدیث پاك کی دی: فقد جفانی ؟

دهغه حج کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۳\ ۱۲۰) آیا ددوی حج پوره کیږی اوکه نه؟

آیا ددوی سره دورور ګلوی اړیکی شلول ضروری دی؟ سوال: (۱۴\ ۱۲۱) آیا ددغه کسانو سره اسلامی اخوت واجب الانقطاع دی اوکه نه؟

جواب: (۱) ذکرسوی جماعت خطاسوی نه دی ځکه چی په حقیقت کی ډیر مشکلات دمکی معظمی څخه مدینی منوری ته په تګ کی په هغه وخت کی وو لکه څنګه چی معروفه اومعلومه خبره ده اوچی کله خطا سوی اوګنهګار نه دی نوتوبه کښل باندی دهمدی وجه څخه لازم نه دی (۱)، دغه رکم توبه کښل اواستغفار ویل هروخت دمسلمان دشان سره مناسب دی.

۲\ : ذکرسوی جماعت په دغه وعید کی داخل نه دی.

۳\ : حج چی پوره سی نوپه حج کی هیڅ قسم نقصان نه راځی ځکه چی دپاکی روضی زیارت دحج څخه وروسته مستحب دی، چی جلاګانه صالح او داجر اوثواب موجب دی، ددی صالح عمل او دزیارت دشرف دنه حاصلیدو په وجه په فرض حج کی هیڅ قسم خلل نه راځی.

۴\ : هیڅکله ورسره داسلامی اخوت پریکول په کارنه دی. فقط

که یو جماعت دخطری اوازه واوری اومدینی ته ولاړنسی نوددی څه حکم دی؟ سوال: (۱۲۲\) یوه لویه ډله دحج په اراده باندی روانه سوه دحج دمناسکو داداء کولو څخه وروسته یوجماعت خلګ دمدینی منوری په زیارت مشرف سوه اویوبل جماعت دمقدسو اماکنو دزیارت څخه بغیر واپس راغلل اودوی دخطر داوازی په وجه ولاړنه سول دغسی صاحبانو ته بی ایمانه اومرتد اوفاسق ویل، اوسلام کلام اوخوراك چښاك ورسره درست دی اوکه نه؟

جواب: دغه صاحبان چی دمذکوری اوازی په وجه دحضور ﷺ دپاکی روضی اودمدینی طیبی دمحترم حرم څخه محروم پاته سول دوی ته بی ایمانه، مرتد اوفاسق ویل حرام دی اوخوك چی دغه رکم کلمات دهغوی په حق کی استعمالوی نوهغوی فاسقان اوملعون دی، ځکه چی مومن ته دکفر نسبت کوونکی دایمان دسلبیدو په خطره کی دی اعاذنا

---

(۱). وزیارة قبره ﷺ مندوبة بل قیل واجبة لمن له سعة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الصدی مطلب فی تفضیل قبره المکرم ج۲ ص ۳۵۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۲). ظفیر

الله تعالى منه، قال ﷺ ايما رجل قال لاخيه كافر فقد باء به احدهما ([1]). او ددوی سره ترك سلام اوخوراك پريښوول وغيره داجائز نه دى. فقط والله تعالى اعلم

دمجبوری په وجه چې مدینې منورې ته ولاړ نسي نوحج یې کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۳) کم سړی چې حج دبیت الله شریفی وکړی مجبوراً دخرچې دکمبود په وجه مدینې منورې ته ولاړ نه سی نوددی سړی حج کامل دی اوکه نه؟

جواب: دحج په مکمل کیدو کې هیڅ شبهه اوتردد نسته البته دوس او دطاقت دلرلو باوجود که چیری مدینې منورې ته ولاړ نسی نوبدہ خبره اولويه بې قسمتي ده ليکن کله که هغه دخرچې دکم والي په وجه مجبوره سی او ولاړ نه سی نوپه هغه باندی هیڅ قسم مؤاخذه نسته ([2]). فقط

اووم باب

دحج متفرق مسائل

دجمعې په ورځ چې حج وسی دی ته حج اکبر ویل کیدی سی ددی خبری اصل څه دی؟

سوال: (۱۲۴) دجمعې په ورځ چې حج وی دیته حج اکبر وایی ددی کم اصل سته اوکه نه؟ اودجمعې په ورځ چې حج واقع سی په دی کې زیات فضیلت سته اوکه نه؟

جواب: ددی دومره اصل سته چې رسول الله ﷺ چې حج کوی نوهغه دجمعې ورځ وه او ددی په باره کې دا ایت نازل سوی دی: واذان من الله ورسوله الى الناس يوم الحج الاكبر. الآيه. دحج اکبر په مقابل کې حج اصغر دی چې عمره حج اصغر دی او هریو حج هغه حج اکبر دی. فقط

ددواړو خواوو دکرایه جمع کولو حکم درست دی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۵) دڅو کالو څخه دی رواج ترقي کړیده چې په هندی حاجیانو کې په کثرت سره داسی خلګ پیدا کیږی چې دکافی خرچې دنه لرلو باوجود دحج داداء کولو په غرض دهندوستان څخه روانیږی اودبیرته راتلو په وخت دمفلسی په وجه دجدی په لاری سرکونو پراته اوپه ډول ډول ناروغیو اخته اودمرګ ښکارسوی دی، اودکمو په باره کې چې دحجاز حکومت پرهندی حکومت زور راوړی چې دوی خپل رعیت دجدی څخه هندوستان ته بوزی، په کمو چې دهند حکومت هرکال خلوینښت پنځوس زره روپی مصرفوی په دی کاربانډی هندوممبران

([1]). مشكوة شريف. ظفير

([2]). وزيارة قبره ﷺ مندوبة بل قيل واجبة لمن له سعة ويبدا بالحج لوفرضا ويخير لو نفلا ما لم يمر به (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الهدى ج٢ ص ٣٥٢ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٢). ظفير

اعتراض کوی په دارکم حالت کی که چیری دقانون په واسطه پرحج تلونکو باندی دا شرط ولګوی چی دتګ څخه مخکی دواپسی دپاره دجهاز کرایه جمع کړی اویا دجهاز ددوارو طرفونو ټکټ واخلی نوآیا داسی قسم شرط لګول خو دشریعت مخالف نه دی؟

جواب: داسی قسم قیودات پرشرعی احکامو شرعًا جائزنه دی: واذن فی الناس بالحج یاتوك رجالا وعلى ضامر یاتین من کل فج عمیق لیشهدوا منافعا لهم ویذکر اسم الله فی ایام معلومات الآیه. په دی آیت کی دغور کولو څخه دداسی قسم قیوداتو لګول په حج کوونکو باندی ممنوع معلومیږی ډیر خلګ داسی سته چی دواپسی اراده نه لری اوډیر خلګ داسی سته چی هلته ولاړ سی نویو کسب اوکار تجارت اومحنت او مزدوری کوی چی دخپل تګ اوواپسی دپاره کرایه جمع کړی اوبیرته راسی لهذا داسی قسم کار مناسب اوجائز نه دی چی دهغو په ذمه باندی داسی قسم قیودات ولګوی اوهغوی را وګرځوی. فقط

سرمایه چی کله دناجائزی ګټی سره خلط سی نوڅه وکړی؟ سوال: (۱۲۶) زما سره چی دحج کولو دپاره کمه سرمایه وه، دغه روپی ما دتنخواه څخه جمع کړی دی نودغه روپی دناجائزه آمدنی څخه دلاس ته راغلو روپو سره خلط سوی دی نوکم یو صورت باید ددی دپاکولو دپاره اختیار سی؟

جواب: هغه اندازه روپی چی دتنخواه څخه جمع سوی دی هغه دی ځینی جلا سی په دی جلا کولو سره هغه روپی حلالی اوپاکی او صفا کیږی. فقط

دمکی مکرمی اودمدینی منوری په حرمینو کی دعبادت ثواب څومره دی؟ سوال: (۱۲۷) دمکی اودمدینی په حرمینو شریفینو کی چی کم عبادت ترسره کیږی برابره ده چی دغه عبادت بدنی وی اوکه مالی وی ددی څومره ثواب دی؟

۲: په حدیث پاك کی دی چی بنی ادم دمبرور حج څخه وروسته پاکیږی داسی لکه چی نوی دخپلی مور څخه پیداسی، آیا په دی سره هرقسم ګناهونه معاف کیږی؟

جواب: ۱: په حدیث پاك کی دلمانځه په باره کی داثواب وارد سویدی لکه څنګه چی په سنن ابن ماجه کی دی. عن انس بن مالك ﷺ قال قال رسول الله ﷺ صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي بَيْتِهِ بِصَلَاةٍ وَصَلَاتُهُ فِي مَسْجِدِ الْقَبَائِلِ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ صَلَاة وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي يُجَمَّعُ فِيهِ بِخَمْسِ مِائَةِ صَلَاةٍ وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى بِخَمْسِينَ أَلْفِ صَلَاةٍ وَصَلَاتُهُ فِي مَسْجِدِي بِخَمْسِينَ أَلْفِ صَلَاةٍ وَصَلَاةٌ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ بِمِائَةِ أَلْفِ صَلَاةٍ. لیکن محققینو علماوو تصریح فرمایلی ده چی

دباقي نورو مالي اوبدني عباداتو هم داحكم دی، اوذكر سوی مضاعفت په هغوی كی هم دی لكه چي په درمختار كی دی: وكذا بقية القرب (١). په شامی كی دی: ای كالصوم والاعتكاف والصدقة والذكر والقرآئة الخ (٢).

٢\: په درمختار كی دی: هل الحج يكفر الكبائر؟ قيل نعم الخ وقيل غير المتعلقة بالآدمي الخ وقال عياض: أجمع أهل السنة أن الكبائر لا يكفرها إلا التوبة، ولا قائل بسقوط الدين ولو حقا لله تعالى كدين صلاة وزكاة الخ (٣). ددی عبارت حاصل دادی چی آيا په حج سره كبيره گناهونه هم بخښل كيږی؟ بعضو ويلی دی چی هو! معاف كيږی ، اوبعضو نورو ويلی دی چی دحقوق العباد څخه غير چی كم كبيره گناهونه دی هغه معاف كيږی. قاضی عياض رحمه الله فرمايلی دی چی داهل سنتو په اتفاق سره كبيره گناهونه دتوبی بغير نه معاف كيږی اوپه حج كولو سره قرض نه ساقطيږی كه څه هم دحقوق الله څخه وی لكه دلمانځه قضا اوزكات سو اوپه حديث پاك كی دی: ومن حج لله فلم يرفث ولم يفسق رجع كيوم ولدته امه (٤) الخ. بعضو علماوو ددې څخه دصغيره گناهونو څخه پاكوالی مراد اخيستی دی ليكن دحقوق العباد اودقرض څخه غير، كه څه هم قرض دالله ﷻ هم وی لكه لمونځ اوزكات سو، مطلب داچی په دی مسئله كی دعلماوو اختلاف دی اوهيڅ يوجانب قطعی نه دی. فقط

كم حاجي چي په جده كي وفات سي دهغه دپاره دحج ثواب سته اوكه نه؟ سوال: (١٢٧\)

زما مرحوم پلار په ډير شوق اوجذبه سره حج ته روان سوی وو چی په جده كی وفات سو او دډيری بی پرسی په حالت كی دقافلی والا وو، بی دجنازی كولو اودتجهيز اودتكفين څخه بغير يی پريښووی اومكی ته ورڅخه ولاړل، نو دهغه به ثواب كيږی اوكه نه؟ اواجر به ورته وركول سی اوكه نه؟

جواب: دهغه اجر اوثواب دهغه دمسافری په وجه نورهم زيات سو، اودحج ثواب به ورته هم ان شاء الله پوره پوره وركول سی. فقط

دحج په سفركي چي دحج كولو څخه مخكي مړسي: سوال: (١٢٨\) يوسړی اودهغه ښځی حج كول غواړی نوكه چيری په هغه ورځوكی دالهی قضاء په سبب په لاره كی يوه داسی

---

(١). الدر المختار على هامش ردالمحتار قبيل كتاب النكاح مطلب فی تفضيل مكة ج٢ ص ٣٥۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٢) وجاءت احاديث تدل على ان تفضيل ثواب الصوم وغيره من القربات بمكة (ردالمحتار كتاب الحج ج٢ ص ٢٥٧ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٧). ظفير

(٢). ردالمحتار قبيل كتاب النكاح ج٢ ص ٣٥۴ ، ط. س. ج٢ ص ٢٢٧. ظفير

(٣). مشكوة باب المساجد ص ٧٢. ظفير (۴). ايضا. ظفير

حادثه رامینځ ته سوه اوپه لاره کی په دوی دواړو کی یو مړ سو نودحج ثواب به ورکول کیږی اوکه نه؟

۲\ : که چیری دوی دواړو دحج نیت کړی وی اوپه لاره کی دواړه وفات سی نوپه دی وخت کی به هم دوی دواړو ته ثواب ورکول کیږی اوکه نه؟

۳\ : دښځی پلار ژوندی دی اوهغه تر اوسه پوری هیڅ حج نه دی کړی خپل خاوند ته وایی چی حج راباندی وکړه دازما مهر سو، په دی وخت کی دتګ واسطه تیاره سوه دښځی پلار ددی کار مانع دی، نوپه دی صورت کی څه کول په کاردی ؟

۴\ : اوس چی دحج ورځی سته، په تګ سره اوپه لاره کی په وفات کیدو سره به هم ثواب وی اوکه نه؟

جواب: ۱\ : که چیری په لاره کی مړه سی اوکمه حادثه رامینځته سی نوپوره پوره ثواب به ورکول کیږی اوداالله ﷻ په نزد ددوی دپاره لوی اجر اوغټه درجه ده. فقط

۲\ : په دی کی ورته ثواب حاصلیږی (۱).

۳\ : که چیری پرښځی حج فرض نه وی، اوخاوند یی حج ته پرتګ باندی اصرار اوټینګار نه کوی نوښځی ته دخپل پلار اطاعت کول پکاردی یعنی په دی وخت کی ورته نفلی حج ته تلل په کارنه دی. په شامی کی دی. اما حج فطاعة الوالدین اولٰی مطلقا (۲).

۴\ : ثواب ورته حاصلیږی (۳). فقط

قد تم الجزء السادس من فتاوٰی دار العلوم دیوبند مکمل ومدلل بعون الله تعالٰی وتوفیقه علی العبد الضعیف محمد ظفیر الدین المفتاحی

شپږمه حصه ختمه سوه

والحمد لله رب العالمین

تاریخ:

الأحد، ۲۵ ذو القعدة، ۱٤۲۹ هـ ق



(۱). مشکوٰة کتاب المناسك فصل اول ج۲ ص ۳۲۳. ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الهدی ج۲ ص ۳۴۸ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۱. ظفیر

(۳). مشکوٰة کتاب المناسك ص ۲۲۳. ظفیر

فتاویٰ دارالعلوم دیوبند

مدلل و مکمل

پښتو

۷


بسم الله الرحمن الرحيم

دموجوده وخت په دار الافتآء کې دمروجه نسخو مطابق، دنوي تخريج سره اعلىٰ کمپوټري چاپ

فتاویٰ دار العلوم دیوبند

مُدلّل و مُکمّل

په آسانه او روانه کندهاري پښتو

اووم جلد ۷

کتابُ النِّکاح (نصفِ اوَّل)

تاليف: مفتي اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتي عزيز الرحمٰن صاحب عثماني رحمه الله
((ددار العلوم ديوبند اول مفتي))

په لار ښوونه د: حکيم الاسلام حضرت مولانا قاري محمدطيّب صاحب رحمه الله (مهتمم دارالعلوم ديوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفير الدين صاحب، رفيقِ شعبهٔ ترتيبِ فتاوٰی دار العلوم ديوبند

اضافه تخريج جديد: مولانا مفتي محمد صالح، رفيقِ دارالافتآء جامعة اسلاميه، بنوري ټاؤن کراچي

ژباړه، تعليق او تحقيق: مولانا الحافظ محمَّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانيه، پشاور

زيرِ نګراني: شيخ الحديث حضرت مولانا الشيخ عبد القادر النهرکاريزي (دامت برکاتهم العالية)

مکتبهٔ حبیبیه

کاسي روډ، کوئټه ☎: 0812662448

al-ilmcorp@hotmail.com

لومړی چاپ

۱۴۲۹ شعبان \ اګست 2008

Maktabah Habibiyah | مکتبه حبیبیه
Publishing Organization | خپروندویه ټولنه

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارګ بازار کندهار ، افغانستان ، ګرځنده تلیفون

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجد نور ، کوئټه ، تلیفون شمیره

AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپیوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تلیفون شمیره

دفتاوىٰ دار العلوم ديوبند مدلّل او مكمل (پښتو) دمضامينو فهرست، جلد ❼

داومی حصې فهرست ختم سو

❋ ❋ ❋

كتاب النكاح

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله رب العٰلمين والصلٰوة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله وصحبه اجمعين.

دنكاح كول فرض دي اوكه سنت؟ سوال: (۱) نكاح كول فرض دي اوكه سنت اوددي حقوق او فائدي څه دي؟

جواب: نكاح درسول الله ﷺ سنت دي او دنكاح ډيرى فائدى په احاديثو كي راغلي دي (۱) اوچې كم سړي سره دطاقته نكاح كول نه خوښوي اومخ ځيني اړوي نو دهغه په باره كي حضور ﷺ فرمايلي دي چي (۲) دغه شخص زما پرلاره نه دي. (۳) فقط

دخرڅ او خوراک قدرت لري نو نكاح كول افضل دي: سوال: (۲) ديو سړي ښځه مړه سوه او دي دفرض خوراك طاقت لري او دا وايي چي اوس به بغير دواده څخه وخت تيروم نودي سړي لره نكاح ښه ده اوكه نه بي واده پاته كيدل؟

جواب: داسي سړي لره نكاح افضله ده (۴).

دانجونو په نكاح كي وروستوالي كول ګناه ده اوكه نه؟ سوال:(۳) دزيددوى لوڼي دي پيغلي

---

(۱). ويكون (اى النكاح) واجبا عند التوقان فإن تيقن الزنا إلا به فرض. نهاية. وهذا إن ملك المهر والنفقة، وإلا فلا إثم بتركه، بدائع. ويكون سنة مؤكدة في الاصح، فيأثم بتركه ويثاب إن نوى تحصينا وولدا حال الاعتدال أي القدرة على وطئ ومهر ونفقة، ورجح في النهر وجوبه للمواظبة عليه والانكار على من رغب عنه ومكروها لخوف الجور فإن تيقنه حرم ذلك (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ص ۳۵۷ و۳۵۸ و۳۵۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲). ظفير مفتاحي

(۲). حديث مبارك دي: يامعشر الشباب من استطاع منكم الباء فليتزوج فانه اغض للبصر واحصن للفرج (بخاري كتاب النكاح) يعني نكاح دستر ګو محافظه ده او ددوى دشرمګاهونو دپاك پاته كيدلو ذريعه ده. يووار پيغمبر ﷺ وفرمايل: اذا تزوج العبد فقد استكمل نصف الدين. (مشكوٰة كتاب النكاح ص۲۲۸) چي كله يوبنده نكاح وكړه نوده خپل نيم دين مكمل كي. يوبل ځاى فرمايي. تزوجوا الولود وتناسلوا الخ. يعني هغه ښځي چي اولاد راوړونكي وى په نكاح واخلي اونسل زيات كړى. دتفصيل دپاره دبنده كتاب (نظام عفت وعصمت) وګورى، چاپ: ندوة المصنفين دهلي. ظفير

(۳). اتزوج فمن رغب عن سنتي فليس مني (بخاري باب الترغيب في النكاح). ظفير صديقي

(۴). عكاف بن بشير تميمي يوصحابي دي دهغه څخه يووارحضور ﷺ پوښتنه وكړه چي ښځه دي سته؟ ده وويل: نه. مينځه دي سته؟ ده وويل نه. نوارشاد يې وكي: طاقت هم لرى اوخوشحاله هم يې اوبياهم واده نه كوى. اذا انت من اخوان الشيٰطين. ته خو دشيطان درونو څخه يې (جمع الفوائد كتاب النكاح عن احمد) قالوا ان الاشتغال به اى بالنكاح افضل من التخلي لنوافل العبادات اى الاشتغال به ومايشتمل عليه من القيام بمصالحه ولمصاف النفس عن الحرام وتربية الولد ونحو ذلك (ردالمحتاركتاب النكاح ص ۳۵۵ ج۲، ط.س.ج۳ ص۳). ظفير

تقریبا پخی ځوانی دی اوزید ددوی په واده کی وروسته والی کوی ددی په باره کی که څه وعید وی نو ویی لیکی؟

جواب: په حدیث کی دی: من ولد له ولد فیحسن اسمه وادبه فاذا بلغ فلیتزوجه فان بلغ ولم یزوجه فاصاب اثما فانما اثمه علی ابیه (۱) اوپه یوبل روایت کی دی: من بلغت ابنته اثنتی عشرة سنة ولم یزوجها فاصابت اثما فاثم ذالك علیه. (۲) حاصل داچی دځوانانو بچیانو په واده کی تلواری کول پکاردی خاص دانجلۍ په باره کی چی مناسب قرابت ورپیدا سی اوبیا هم وروسته والی پکښی کوی نودا ډیره بده ده او دمذکور حدیث څخه معلومیږی چی که داولاد څخه ګناه وسی نو ددی بوج دپلار په سردی. فقط

<u>نکاح سبب دثواب دی په دی اعتراض دشریعت څخه خلاف دی</u>: سوال: (۴) زما عُمر ۲۲ کاله دی اودسجاده نشین مدار صاحب په خدمت مامور یم اوس مشرانو او تربیت کوونکو ته زما دنکاح کولوپه مطابق دنبی کریم ﷺ دسنت خیال ورپیدا سویدی اوپه سبب دعمر او په تقاضو دځوانی په خپله زما طبیعت هم دي ته مائل دی خوځه کسان اعتراض باندی کوی چی سجاده نشین مدار صاحب لره نکاح کول عبث کار بلکه ممنوع او دشرع خلاف دی. نودا صحیح ده اوکه غلط؟

جواب: دمعترضینو اعتراض غلط اودشرع خلاف دی. دشرع حکم: فانکحوا ماطاب لکم (۳) عام دی اوحدیث: النکاح سنتی (۴) ټولو ته شامل دی نو نکاح کول ثواب اواتباع دسنت دی (۵) اوپه وخت دضرورت کی نکاح نه کول سبب دبیری دګناه دی. (۶) فقط (دا ویل چی مدار صاحب سجاده نشین لره نکاح کول دشرع خلاف او ممنوع ده دا پر جهالت

---

(۱). مشکوة المصابیح، کتاب النکاح ص ۳۷۱. ظفیر

(۲). ایضا. ظفیر

(۳). سورة النساء ، ۱ . ظفیر

(۴). مشکوة باب الاعتصام بالکتاب والسنة. دحدیث الفاظ داسی دی واتزوج النساء فمن رغب عن سنتی فلیس منی. متفق علیه (ایضا). ظفیر

(۵). عن انس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من اراد ان یلقی الله طاهرا مطهرا فلیتزوج الحرائر (مشکوة کتاب النکاح ص ۲۲۸) ویکون (النکاح) واجبا عند التوقان الخ ویکون سنة مؤکدة فی الاصح ؒ حال الاعتدال ؒ. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۵۷ - ۳۵۸ ج۲، ط. س. ج۳ ص ۷). ظفیر

(۶). ویکون (النکاح) واجبا عندالتوقان فان تیقن الزنا الابه فرض، نهایه، (درمختار) قوله: عندالتوقان ؒ والمراد شدة الاشتیاق کما في الزیلعي: أي بحیث یخاف الوقوع في الزنا لو لم یتزوج، إذ لا یلزم من الاشتیاق إلی الجماع الخوف المذکور. بحر. قلت: وکذا فیما یظهر لوکان لایمکنه منع نفسه عن النظر المحرم أو عن الاستمناء بالکف، فیجب التزوج وإن لم یخف الوقوع في الزنا (ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۵۷ - ۳۵۸ ج۲ ، ط. س. ج۳ ص ۷). ظفیر

مبنى دى ددى په شرعيت كى هيڅ اصل نسته. ظفير)

دوهمه نكاح درسم دوجه څخه عيب ګڼل ګناه ده: سوال: (۵) دوهمي نكاح ته چى كم سړى سره ددى علمه چى ددى امر په قرآن كريم كى سته او داسنت دى دحضور ﷺ عيب اوبى عزتى يې وګڼى اوچى داسړى ددى په باره كى خلګوته ترغيب وركړى اووعظ اونصيحت وكړى اوددى په باره كى جنګ جګړى ته هم تياروى، اوچى څوك په دى عمل كوى دوى ته بى عزته او كمينه وايى. يا داوايى چى موږ داحق اوسنت درسول الله ﷺ منو خو چى زموږ په قوم كى ددى رواج نسته نو ددى وجه څخه موږ دا شرم ګڼو؟

جواب: دابښكاره ده چى نكاح ثانى شرعًا جائز اومستحب ده (١) اودحضور ﷺ اودصحابه وو ﷺ څخه ثابته ده داپه دى وجه چى په قوم كى رواج نه ده عيب او شرم ګڼل دجهالت خبره ده اوسخته ګناه ده (٢) اوچى كله دى دافعل ښه هم ګڼى اوسنت درسول ﷺ يى هم ګڼى نوبيا خو نور هم دجهل خبره ده چى دقومى رواج په وجه دابدګڼى نودا امر ډير قبيح دى، ددې څخه توبه كول پكاردى او ددوهمى نكاح ترغيب وركوونكى دى هم دسختى څخه كار نه اخلى بلكى په نرمى اوپه درجه درجه دى خلګ پوه كړى كما قال الله تعالىٰ لنبيه ﷺ ادع الى سبيل ربك بالحكمة (٣) نوچى كم ځاى دشر او دفساد بيره وى هلته نرمى پكارده ځكه چى دامر بالمعروف دپاره هم موقع اومحل شرائط اوخصوصيات دى چى بغير دهغو څخه په امر بالمعروف سره نفع نه حاصليږى. (٤) فقط

دكونډې او دماشومانو والا ښځى سره نكاح څنګه ده؟ سوال: (٦) اوريدلى مى هم دى چى كونډه دبچو والاوى دهغې سره نكاح جائزنه ده، دداسى ښځى سره نكاح جائزده اوكه نه؟

جواب: كه يوه كونډه ښځه په سبب دپرورش دخپلو بچيانو دوهمه نكاح ونه كړى نوثواب به وركول سى. خونكاح كول يې صحيح دى. په نكاح كى څه ګناه نسته اوپه دى زمانه كى چى دوهمه نكاح عيب ګڼل كيږى نوبيا خو ضرور كول پكار دى. اوثواب يى زيات دى. (٥) فقط

---

(١). وانكحوا الايامى منكم (نور۴) جمع ايم وهى من ليس لها زوج بكرا كانت او ثيبا ومن ليس له زوجة (جلالين ص ٢٩٨) . ظفير

(٢). دحضور ﷺ زياتى بيبيانى كونډى وى. اوداسى ډيرو اصحابو هم دكونډو سره ودونه كړى دى. ظفير

(٣). سورة النحل ركوع ١٢ . ظفير

(٤). راى فى ثوب غيره نجسا مانعا ان غلب على ظنه انه لو اخبره ازالها وجب والا لا، فالامر بالمعروف على هذا (درمختار) وان علم انه لا تعظ وينزجر بالقول ولا بالفعل ولو باعلام سلطان اوزوج اووالد له قدرة على المنع لا يلزمه ولاياثم بتركه (ردالمحتارقبيل كتاب الصلوة ص٣٢٥ ج١،ط.س. ج١ ص٣٥٠ مطلب فى الامر بالمعروف).

(٥). ان امرأة قالت يارسول الله ﷺ ان ابني هذا كان بطني له وعاء وثديي له سقاء وحجري حواء وان اباه طلقني =

دهغه نابالغانو نکاح چی په هیڅ هم نه پوهیږی جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۷) چی کم یو نابالغ په هیڅ هم نه پوهیږی دهغوی نکاح په شریعت کی جائزده اوکه نه؟ انجلی اودهلك واده کول په څومره عمر کی جائز اوکول پکاردی؟

جواب: دنابالغانو نکاح چی ولی یی وکړی صحیح ده. دنابالغو دپوهی ضرورت نسته داولیاء پوهیدل اواجازه ورکول ضروری دی دعمر څه حد مقرر نسته. (۱) فقط

دبالغ کیدو څخه وروسته دپلار فرض دی چی دانجلی او دهلک واده وکړی: **سوال**: (۸) چی دیو سړی لور دپنځو ویشتو کالو سی اودی یې واده نه ورکوی، ایا په ده پسی لمونځ صحیح دی؟

جواب: دخپلی لور واده دمناسب ځای او دکفو دپیدا کیدو سره ضروری دی دکفو دپیدا کیدو اودموقع مناسب څخه وروسته په نکاح کی تیزی کول پکاردی. اوپه ښه موقع پیدا کیدو خو فوراً نکاح کول پکاردی. (۲) فقط

دنابالغ نکاح جائز ده اوکه نه؟ **سوال**: (۹) څلور کاله مخکی په حالت دنابالغتیا کی زما نکاح درحمت الله دخور سره سوی وه اوس موږ دواړه بالغ یو او زموږ واده سویدی دا نکاح صحیح ده اوکه نه؟ دانجلی ورور رحمت الله وایی چی دنابالغ نکاح صحیح نه ده؟

جواب: دانکاح شرعا صحیح ده او دانجلی دورور رحمت الله وینا چی دانکاح صحیح نه ده غلطه ده (۳).

دانجلی کښینول او واده یی نه کول څنګه دی؟ **سوال**: (۱۰) چی کم سړی پیغله لور تر ډیره وخته پوری کښېنوی بغیر دنکاح څخه نودده څه سزا ده؟

جواب: که دکفو پیداکیدو سره هم ده دلور په نکاح کی وروسته والی وکی نودی گنهگار دی اوپه حدیث پاك کی دی چی کله انجلی یاهلك بالغ سی او ددوی پلار ددوی نکاح نه کوی اوددوی څخه څه گناه وسی نوددی سزایی پلار ته ورکول کیږی اوپه یو روایت کی دی چی دچا لور ددولسو کالو سی اودی ددی نکاح ونه کړی او ددی څخه څه گناه وسی

= واراد ان ینزعه منی فقال رسول الله ﷺ انت احق به ما لم تنکحی رواه احمد وابوداؤد (مشکوٰة ص ۲۹۳) او دباری تعالی ارشاد دی: وانکحوا الایامی منکم (نور: ۴) . ظفیر

(۱). ویجوز نکاح الصغیر والصغیرة اذا زوجها الولی بکرا کانت الصغیرة اوثیبا (هدایه باب فی الاولیاء ص ۲۹۵ ج۲) . ظفیر

(۲). وعن ابی سعید وابن عباس قالا قال رسول الله ﷺ من ولد له ولد فلیحسن اسمه وادبه فاذا بلغ فلیزوجه فان بلغ ولم یزوجه فاصاب اثما فانما اثمه علی ابیه (مشکوٰة کتاب النکاح باب الولی ص ۲۷۱). ظفیر

(۳). عن عائشة رضی الله عنها ان النبی ﷺ تزوجها وهی بنت سبع سنین وزفت الیه وهی بنت تسع سنین ولعبها معها ومات عنها وهی بنت ثمانی عشرة رواه مسلم (مشکوٰة باب الولی ص ۲۷۰). ظفیر

نو داګناه دپلار په غاړه ده، دحدیث شریف الفاظ دادی: وعن عمر بن الخطاب وانس بن مالك رضي الله عنهما عن رسول الله ﷺ قال في التوراة مكتوب من بلغت ابنته اثنتى عشرة سنة ولم يزوجها فاصابت اثماً فاثم ذلك عليه رواه البيهقى (۱) غرض داچي ددولسو کالوپه رسیدو دابالغه کیږی اودایې تهدیداً او زجراً وفرمایل چې خلګ دبالغۍ لور په نکاح کی وروستوالی ونه کړی. فقط

دیوی ښځه زیاتی ښځی کول کله جائزدي؟ سوال: (۱۱) دفقه په رڼا کی سړی په کموحالاتو کی دیوې ښځه زیاتی ښځی کولی سی؟

جواب: په شریعت کی سړی ته دڅلورو ښځو اجازه سته او داور لره مباح دی خوددی سره داحکم دی چې په دوی کی به عدل اومساوات کوی. اوکه داسی نه کوی نو بیادی په یوی ښځی اکتفاء وکړی کما قال الله تعالی: فانكحوا ماطاب لكم من النساء مثنٰى وثلٰث ورباع فان خفتم ان لا تعدلوا فواحدة الاية، النسآء : ۱ .

دکونډې سره نکاح کول وجه دناراضی نه دی ګرځول پکار: سوال: (۱۲) زید دخپل خاندان دیوی کونډې مسماة په هنده سره نکاح کړیده دخاندان والاپه دی ناراضه دی اوپه قسم قسم طریقو ورته نقصان رسوی دجمعی په ورځ یوواعظ په دوران دوعظ کی داسی وویل چې دکم سنت په اجراء سره فتنه راځی نوپه هغه عمل کول ناجائز دی اوپه مثال کی یی یوه واقعه دنبی کریم ﷺ بیان کړه چې دخانه کعبی دیوال نیمګړی ؤ، حضور ﷺ دفتنی دبیری پوره نه کړی اودا ارشاد یی وفرمایی: په نیغولو کی دفتنی بیره ده، ځکه نو دا به په دی حالت پریږدم نو دبرنی حالاتو په بناء زید متردد دی چې دا روایت دده په حالت منطبق کیږی اوکه نه؟ دی به دالله پاك په نزد ګنهګار خو نه وی اوکه ګنهګار وی نو اوس څه کول پکاردی چې په آخرت کی دمواخذی څخه محفوظ سی.

جواب: دکونډې سره نکاح کول شرعاڅه دعیب اودناراضتیا شی نه دی ځکه چې دکونډې نکاح په قرآن کریم اوپه عمل مستمره دنبی کریم ﷺ اودصحابه کرامو رضي الله عنهم ثابته ده پر دی رد اوبد ویونکی اوناراضه خلګ مخالف دحکم دباری تعالی اودنبی کریم ﷺ دی، چې دکمو خلګو خاندان په دی خفه دی او ضرر رسوی نو که دهغوی دا ضرر رسول او خفګان صرف دنکاح دکونډې دوجه وی چې دوی داعیب اوبد اوشرم ګڼی نو سخت جهالت اوګناه ده داسی خلګو لره توبه پکارده کنی دکفر بیره ده ددغه واعظ بیان صحیح نه دی اوده چې کمه مسئله بیان کړیده هغه هم غلطه ده اوپه مثال کی چې کمه واقعه

---

(۱). مشكوة باب الولي ص ۲۷۱، او ددوهم حديث الفاظ دادی. قال رسول الله ﷺ من ولد له ولد فليحسن اسمه وادبه فاذا بلغ ولم يزوجه فاصاب اثما فانما اثمه على ابيه (ايضا) . ظفير

درسول الله ﷺ بیان کړیده هغه هم غلط دی، هغه واقعه داسی نه ده چی کمه ده بیان کړیده بلکی په کتابونو داحادیثو کی لکه مسلم، ابوداود، ترمذی کی واقعه داسی راغلی ده چی حضرت عائشه رضی الله عنها دانذر کړی وو. چی که مکه دحضور ﷺ په لاس فتح سوه نودابه په کعبه کی دننه دوه رکعته لمونځ کوی چی مکه فتحه سوه نورسول الله ﷺ ددی لاس ونیوی اوحطیم ته یی بوتله اووی فرمایل چی په حطیم کی دوه رکعاته اداء کړه ځکه چی حطیم هم بیت الله دی. ستا قوم په وجه دکم خرچی په وخت دتعمیر کی حطیم دبیت الله څخه دباندی پریښوو ی که ستا قوم دجاهلیت دزمانی سره قریب نه وی نو مابه خانه کعبه ورانه کړی وای او دابراهیم علیه السلام دآبادی سره به می موافقه جوړه کړی وای اوحطیم به می په کعبه کی داخل کړی وای، او دخانه کعبی ددروازی درشل به می دمزکی سره پیوست کړی وای. اودخانه کعبی به می دوی دروازی جوړي کړی وای یوه په طرف دمشرق اوبله په طرف دمغرب. اوکه زه تراتلونکی کاله پوری ژوندی وم نوداسی به کوم ([1]). انتہٰی

معلومه سوه چی واعظ کمه واقعه بیان کړیوه هغه صحیح نه وه اونه په دی کی دفتنی دبیری څخه دسنت دترك کولو څه ذکر نسته بلکی ددوی ﷺ غرض داوو چی دقریش قوم اوس په اسلام کی داخل سو زمانه دکفر اوجاهلیت قریبه ده ورته نوهسی نه چی ددوی په ایمان اواسلام کی څه خلل واقع سی، دلته فی الحال دخانه کعبی بدلول څه ضرور کار نه وو، اوبیا دوی داهم ښکاره کړله چي که راتلونکی کال ته ژوندی وم نو دا کار به کومه خو ددوی ﷺ وفات وسو. غرض داچی داواقعه دکونډی سره هیڅ تعلق نه لری. یو دینی امر ددی وجه څخه چی خلګ به خفه سی پریښوول جائزنه دی. اودزید ددی نکاح مؤاخذه به نه کیږی بلکی ده ته ثواب ورکول کیږی. فقط

<u>**دحضور ﷺ دپاره څو ښځی روا وی:**</u> **سوال:** (۱۳\۱) دحضور ﷺ دپاره په حکم دالله جل جلاله په یو وخت کی څو بیبیانی روا وی؟ او داسلام بادشاه څو ښځی کولی سی؟

سوال: (۱۴\۲) داسلام باچا لره شرعًا په نکاح څو ښځی په یووخت کی روا وی؟

جواب: تر نهو پوری جائز وی لکه چی په جلالین شریف کی دی. لایحل لك النسآء من بعد التسع اللاتی اخترتك الخ ([2]) او داکثرو عالمانو دامذهب دی کذا فی الکمالین ([3])

([1]). عن الاسود بن یزید ان ابن الزبیر قال له حدثني بما کانت تقضي الیك ام المؤمنین یعني عائشة فقال حدثني ان رسول الله ﷺ قال لها لو لا ان قومك حدیث عهد بالجاهلیة لهدمت الکعبة وجعلت لها بابین فلما ملك ابن الزبیر هدمها وجعل لها بابین (ترمذی باب ماجاء فی کسر الکعبة ص ۱۰۷ ج۱) . ظفیر

([2]). جلالین سورة الاحزاب ص **۳۵۲**. ظفیر

([3]). جلالین مع حاشیة ص **۳۵۲**.

هسی دحضور ﷺ بیبیانی یوولس یا ددې څخه زیاتی وی خوپه یو وخت کی دنهو څخه زیاتی سوی نه وی. فقط

(۲) په یووخت کی دڅلورو څخه زیاتی صحیح نه دی. (۱) فقط

<u>یوپه بل پسی چی څومره نکاح گانی کوی نوکولی یې سی</u>: سوال: (۱۵\۱) یوسړی په خپل عمر کی څومره نکاح گانی کولی سی؟

<u>په یووخت کی دڅلورو څخه زیاتی جائزنه دی</u>: سوال: (۱۲\۳) اوڅومره ښځی ساتلی سی؟

جواب: (۱) په عمر کی یوپه بل پسی چی څومره وغواړی دهغومره سره نکاح کولی سی.

(۲) خوپه یووخت کی دڅلورو څخه زیاتی ښځی نه سی ساتلی. (۲) فقط

<u>دوهم واده چی دمخکی ښځی داجازی څخه بغیروی جائزدی</u>: سوال: (۱۷) زما دواده ډیره موده وسوه خوهلك می نه دی سوی ددې وجه څخه ما په بل ځای کی ځان لره دبل واده بند وبست کړیدی یومولوی صاحب وایی چی دمخکی ښځی څخه اجازه واخله نو بیابه هلته دوهمه نکاح جائزوی اومخکنی ښځه راضی نه ده انکار کوی. نوددی دناراضگی او انکار سره سره بل واده صحیح دی که نه؟ او آیا دزوجې داجازې ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: دا قول صحیح نه دی چی دمخکی ښځی داجازی څخه بغیر دوهمه نکاح صحیح نه ده بلکی پوښتونکی لره دمخکی ښځی داجازی څخه بغیر هم دوهمه نکاح جائزده او ددی په نه رضا کیدو دوهمه نکاح ناجائزه نه گرځی (۳). خو داضروری ده چی ددوهمی نکاح څخه وروسته ددواړو ښځو حقونه پوره پوره اداء کړی اوبرابری اوعدل وکړی. فقط



(۱). فانکحوا ما طاب لکم (ای تزوجوا ما بمعنی من) من النساء مثنی وثلث ورباع ولا تزیدوا علی ذالك (سورة النساء جلالین ص ۲۹) . ظفیر

(۲). قال الله تعالی فانکحوا ماطالب لکم من النساء مثنی وثلث وربٰع (سورة النساء) وصح نکاح اربع من الحرائر والاماء فقط للحر لا اکثر وله التسری بماشاء من الاماء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح فصل فی المحرمات ص ۴۰۰ ج۲ ، ط. س. ج۳ ص ۴۸) . ظفیر

(۳). یجب وظاهر الایة انه فرض ان یعدل ای ان لایجوز فیه ای فی القسم بالتسویة فی البیتوتة وفی الملبوس والماکول والصحبة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب القسم ص۵۴۲ ج۲، ط. س. ج ۳ ص۲۰۱). ظفیر

لومړنی باب

دنکاح ارکان اوددی دصحیح کیدو شرطونه او ددی دانعقاد صورتونه

<u>په نکاح کی څوفرض څو واجب او دعاقدانو څه اختیارات دی؟</u> سوال: (۱۱۱۸) په نکاح کی څو کارونه فرض او واجب دی؟ (۲) عاقدانو ته دا اختیار سته چی هغوی په چا وغواړی نکاح وتړی اوکه نه شریعت دیو خاص سړی حکم ورکوی. (۳) آیا قاضی یا ملا بغیر درضامندی اوبغیر دطلب دعاقدانو څخه په نکاح کولو سره په سرکار کی په مقدمه کولو سره جبرًا دنکاح تړلو دپیسو حقدار گرځی. (۴) اوچی کله دی نکاح ونه تړی نودی دنکاح تړلو داجرت مستحق کیدی سی او دعدالت په ذریعه یی په زور حاصلولی سی ؟ (۵) کم فطری حقوق چی شارع ﷺ مسلمانانو ته ورکړی دی په دی کی څوك مداخلت کولی سی اوکه نه؟ (۶) که یو سړی مسلمانان دهغه فطری حقونو څخه چی کم شارع ﷺ دوی ته ورکړی دی په طمع دنفس او دجاهلانو درسم، په زور دسرکار محروموونکی وی دا کوونکی څنگه دی اودده څه حکم دی؟

جواب: نکاح نوم دایجاب او دقبول دی اودا دواړه رکن دنکاح دی اودهر یوه دعاقدانو څخه دیو بل لفظ اوریدل او دارنگه دشاهدانو اوریدل دایجاب او قبول دا شرط دی دنکاح، اودنکاح سنت اومستحب اعلان وغیره دی. چی درمختار په داسی عبارت سره بیان کړیدی: ویندب اعلانه وتقدیم خطبة وکونه فی مسجد یوم جمعة بعاقد رشید وشهود عدول الخ (۱) وفیه ایضا وینعقد بایجاب وقبول الخ (۲) وشرط سماع کل من العاقدین لفظ الآخر الخ وشرعًا حضور شاهدین (۳) الخ ملخصا والتفصیل یطلب من کتب الفقه

۲. شرعًا عاقدانو ته داحق حاصل دی چی دوی بی له واسطی ایجاب او قبول وکړی یاپه یو بل سړی ایجاب وقبول په طریقی دنیابت او دوکالت سره وکړی اوکه انتظامًا پردوی دحاکمانو داړخه څوك قاضی وغیره مقرر وی چی په ناجائز طور سره نکاح ونه سی نوپه دی کی هم څه حرج نسته چی په دوی پخپله ایجاب اوقبول وکړی.

۳. شرعًا دوی ته په خپله داحق نسته خوکه دحاکمانو دطرفه دی په دی کار مقرر وی او انتظام ددی تقاضا کوی چی کم سړی دحکومت دطرفه دنکاح ویلو دپاره مقرروی هم په دوی دی نکاح وسی او په رجسټر کی دی درج سی چی بیا وروسته ددرواغو دعوٰی او

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۲۰ ج۲. ط.س ج۳ ص ۸. ظفیر

(۲). ایضا ص ۳۲۱ ج۲ ، ط.س ج ۳ ص ۹. ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۳ ج۲ ، ط.س ج ۳ ص ۲۱. ظفیر

دغلطی نکاح جګړه راپیښه نه سی نوشریعت دانه منع کوی. بلکی داهم شرعی حکم دی ځکه چی انتظام دمعاملاتو اورفع دتنازعاتو اوخصوماتو هم ضروری وی لکه چی دبیع او دشراء دپاره داسی انتظامات سویدی، چی ددی پایبندی دحاکمانو په امر سره کیږی.
(۴) په دی صورت کی دی مستحق داجرت نه دی باقی دتحریر وغیره اجرت چی کم دده دپاره دحاکمانو دطرفه مقرروی دهغه په باره کی دي موافق دمقررو قاعدو عمل وسی.
۵. په اصل کی دتمامو معاملاتو شرعی دپاره دڅه تحریر او دکاغذ او درجسټر وغیره ضرورت نسته، تمام عقود بیع، شرا، نکاح وغیره زبانی هم کیدی سی خوکه حاکمانو ددی دپاره څه قاعدی اوانتظام مصلحت ګڼلی وی نوداهم خلاف شرع نه دی. لکه چی په قرآن کریم کی ارشاد دی: یاایها الذین آمنوا اذا تداینتم بدین الی اجل مسمًّی فاکتبوه الخ ([1]) نو دالیکل که څه هم ضروری نه وو خو دمصلحتونو دوجه څخه مفید دی نو ددی امورو هم شریعت اجازه ورکوی.
۲. داسی شخص به ګنهګار وی. فقط

ایجاب اوقبول ضروری دی شیږ کلمی وغیره ضروری نه دی: **سوال**: (۱۹) عند النکاح که دواړه صفت دایمان اوشپږ کلمی بیان نه کړی اوصرف ایجاب اوقبول فرض وګڼی او صرف همدا وکړی نو ددی څه حکم دی؟

جواب: په نکاح کی ایجاب اوقبول ضروری دی. بغیر دایجاب اوقبول څخه نکاح نه کیږی ([2]) اوصفت دایمان اودکلمو ویل په دغه وخت کی دنکاح دانعقاد دپاره شرط نه دی بغیر ددي ویلو هم نکاح منعقد کیږی. اوسنت طریقه دنکاح داده چی مخکی به مسنونه خطبه وویل سی اوبیا ایجاب اوقبول په مجلس دنکاح کی وسی او دایجاب او قبول پر وخت کم از کم دوه شاهدان ضروری دی. ([3]) فقط

دالله ﷻ اودهغه درسول شاهدی کافی نه ده ددوو سړو یا دیو سړی او ددوو ښځو په شاهدی سره نکاح کیږی: **سوال**: (۲۰) یوی ښځی اویوسړی په یوازی والی کی اول ایجاب اوقبول سره وکی په دغه ځای کی نور څوك نه وو. خدای ﷻ اودهغه رسول ﷺ دوی په خپل مینځ کی شاهد کړی وه. بیاڅه موده وروسته دیوسړی اوددوو ښځو په مخکی یی ایجاب

([1]). سورة البقرة رکوع ۳۹ . ظفیر

([2]). وینعقد ای النکاح ای یثبت ویحصل انعقاده بالایجاب والقبول (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۱ ج۲ ، ط.س ج ۳ ص ۹. ظفیر

([3]). ویستحب ان یکون النکاح ظاهرا ویکون قبله خطبة وان یکون عقده فی یوم الجمعة وان یتولی عقده ولی رشید وان یکون بشهود عدول (البحر الرائق کتاب النکاح ص۸۷ ج۳ ، ط.س ج۳ ص۸۱ قبیل قوله وینعقد بایجاب). ظفیر

اوقبول دوباره وکی نونکاح صحیح سوله اوکه نه؟

جواب: په یوازی والی کی دښځی او دسړی په ایجاب اوقبول سره نکاح نه کیږی (۱) او دالله جل جلاله اودرسول الله ﷺ په شاهدی سره نکاح تړلو ته بعض فقهاؤ کفر ویلی دی. په هر حال داسخته گناه ده (۲) اونکاح نه صحیح کیږی اوکه وروسته یی ددوو سړو یادیو سړی او ددوو ښځو په مخکی دوباره ایجاب وقبول وکی نونکاح به صحیح سی.

په خپل مینځ کی ددوو شاهدانو په مخکی په ایجاب اوقبول سره نکاح کیږی: **سوال**: (۲۱) یوسړی ددوو شاهدانو په مخکی خپله نکاح په خپله دیوی کونډی ښځی سره کړیده او په خپله یی ایجاب او قبول کړیدی ایا دانکاح صحیح ده؟

جواب: دانکاح صحیح ده اوشریعت ددوو کسانو په شاهدی سره اعلان دنکاح منی گویا ضروری اعلان حاصل سو. (۳) فقط

ښځی وویل چی زه خپل ځان ستا په نکاح کی درکوم سړی وویل ما قبوله کړلی نو نکاح وسوه: **سوال**: (۲۲) زید او هنده خپله نکاح ددوو شاهدانو په مخکی داسی وکړه چی هندې زید ته وویل ما تاته خپل ځان په نکاح درکی نوزید وویل ما قبول کړی نو دانکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: که ددوو شاهدانو په مخکی یې په مذکوره طریقه سره ایجاب اوقبول کړی وی نو نکاح صحیح سوه. کذا فی الدر المختار. (۴) فقط

بغیر دایجاب او قبول څخه نکاح نه کیږی: **سوال**: (۲۳) زید دخپل نابالغ زوی دپاره دبکر نابالغه لور وغوښتله چی ملاصاحب دنکاح دپاره کښېنستی دشاهدانو دپاره چی کم کلمات دپاره دشناخت دشاهدانو ویل کیږی ده ونه ویل اونه یی دقبولیت الفاظ په خپله ژبه وویل اوس ښځه اوخاوند بالغ سویدی اوبکر وایی چی دغه وخت نکاح نه وه سوی ددی وجه څخه موږ رخصت نه سو کوی اوبل ځای واده کول غواړو آیا نکاح سویده اوکه نه اوبل ځای یی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

---

(۱). لوتزوج بغیر شهود ثم اخبر الشهود علی وجه الخبر لایجوز الا ان یجده عقدا بحضرتهم (ایضا ص۹۴ ج۳ ط.س ج ۳ ص ۸۸ تحت قوله عند حرین الخ). ظفیر

(۲). وفی الخانیة والخلاصة لوتزوج بشهادة الله ورسوله ینعقد ویکفر لاعتقاده ان النبی ﷺ یعلم الغیب (ایضا ص ۹۴ ج۳ ، ط.س ج ۳ ص ۸۸). ظفیر

(۳). ویشترط الاعلان مع الشهود لما فی التبیین ان النکاح بحضور الشاهدین یخرج عن ان یکون سراً ویحصل بحضورهما الاعلان (ایضا) ط.س ج ۳ ص ۸۸. ظفیر

(۴). وینعقد ای النکاح بایجاب من احدهما وقبول من الآخر الخ کزوجت نفسي الخ منك ویقول الآخر تزوجت (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۱ ج۲ ، ط.س ج ۳ ص۹). ظفیر

جواب: بغير دايجاب اوقبول څخه نكاح نه كيږي نوپه مذكوره صورت كي نكاح نه ده سوی. په درمختار كي دي چي: وينعقد ملتبسا بايجاب من احدهما وقبول من الآخر وضعا للماضى الخ وفيه ايضا وشرط حضور شاهدين حرين مكلفين سامعين قولهما على الاصح الخ ملخصا. (۱) فقط

په مذكوره صورت كي نكاح صحيح نه ده: **سوال**: (۱۲۴) الهی بخش چندو نومي ښځي ته مني آرډر راوليږي او ورته وي ليكل كه تامني آرډر واخيستي نوته به زماپه نكاح كي راسي اوشاهد دنكاح به هغه خلگ وي چي دچا په مخكي دي مني آرډر وصول كي. داسي نكاح كيږي اوكه نه؟

جواب: داسي نكاح نه منعقد كيږي. (۲) فقط

ددوو شرعي شاهدانو په مخكي بغير دمهر څخه په ايجاب اوقبول سره نكاح كيږي اوكه نه؟

سوال: (۱۲۵) زيد اوهنده پريو ځای ناست دي اوهم دلته خالد اوصالحه اوحميده هم دي زيد هنديٖ ته دري واره بغير دذكر دمهر څخه وويل ستاسره نكاح كوم تاته منظوره ده نو په دي صورت كي نكاح وسوله اوكه نه؟ اوخطبه دنكاح ويل ضروري دي اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي نكاح صحيح اولازمه ده ځكه چي دصحت دنكاح شرط دوه شاهدان دي اوركن يې ايجاب اوقبول دي اودا دواړه په دي صورت كي موجوددي خطبه سنت ده اودنكاح صحت پردي موقوف نه دي (۳) فقط. كتبه عتيق الرحمٰن عثماني

قال في الدر المختار لوقال بالمضارع ذی الهمزة اتزوجك فقالت زوجت نفسي انعقد. (۴) فقط

چي دوه شرعي شاهدان ووايي چي زموږ په مخكي ايجاب اوقبول سويدي نو نكاح وسوله:

سوال: (۱۲۶) زيد مدعي دي چي هنده زماپه عدم حاضري كي خپل نفس ماته راكړی وو، اوماهم ددي په عدم حاضري كي قبول كړی وو، اوعمر اوخالد او دهنديٖ پلار شاهدان دي نوپه دي صورت كي نكاح وسوه اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي چي دهنده اودزيد ددواړو په ايجاب او قبول باندي شاهدان سته نودا نكاح صحيح سوه دنكاح دصحت اصلي مدار پرشاهدانودي نوچي عمر اوخالد

---

(۱). وګوری الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ص۲۶۱ ج۲ وص۳۷۳، ط.س ج۳ ص۹). ظفير

(۲). بنيادي خبره داده چي نه ايجاب قبول سوی اونه شرعي شاهدان چي اركان اوشرائط دي، وينعقد بايجاب من احدهما وقبول من الاخر الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتاركتاب النكاح ص۲۶۱ ج۲،ط.س ج۳ ص۹). ظ

(۳). ويندب اعلانه وتقديم خطبة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ص۳۵۹ ج۲ ، ط. س ج۳ ص۸). ظفير

(۴). ردالمحتار كتاب النكاح تحت قول الماتن اذا لم ينو الاستقبال ص۳۲۳ ج۲، ط.س ج۳ ص۱۱). ظفير

ددی امر شاهدان دی چی زموږ ددواړو په مخکی زید اوهنده ایجاب اوقبول کړیدی نو نکاح وسوله. هکذا فی کتب الفقه ([1]).

ښځي سړی ته وويل زما نکاح وکړه ده ددوو شاهدانو په مخکی وويل دفلانی سره می نکاح دروکړه نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۷\۱) سړی ديوی ښځی سره ددی په رضا نکاح وکړه او دښځی او دسړی په مينځ کی داخبری وسوی چی ښځی سړی ته وويل زما نکاح دخپل ځان سره وکړه سړی ولاړی او ددوو سړيو په مخکی يی وويل ما دفلانی ښځی نکاح دخپل ځان سره وکړه اوقبول می کړه اوشاهدانو ته يی صرف دښځی نوم واخيستی نه ددی دپلار اونه دقوم، اوشاهدانو دابنځه نه پيژندله نو دانکاح جائز سوه اوکه نه؟

په لاندی صورت کی نکاح وسوه اوکه نه؟ **سوال**: (۲۸\۲) يوه نکاح خوان نکاح په دی صورت وتړله چی مخکی دپيغلی انجلی څخه اجازه واخيستل سوه، هغه خاموشه پاته سوه بيايی دولی څخه اجازه واخيستل سوه، هغه اجازه ورکړه بيايی سړی ته وويل چی دفلانی دلور سره ستا نکاح په عوض دمهر معين کی وسوه تا قبوله کړه، ده وويل ما قبوله کړه نو دا صورت دنکاح موافق دشرعی دی اوکه نه؟

جواب: (۱) که دښځی نوم دپلار دنوم سره اخيستل سوی وی نونکاح صحيح سوه (نو په صورت مسئوله کی نکاح نه ده سوی ځکه چی شاهد خونه داپيژنی اونه ددی دپلار نوم اخيستل سويدی چی دامتعينه سی ([2])). ظفير

(۲) په دی صورت کی نکاح وسوه ([3]).

دبدن بخښلو په لفظ ويلو سره په مخکی ددوو شاهدانو په ايجاب وقبول سره نکاح کيږی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۹\۱) که يوه کونډه ښځه ددوو شاهدانو په مخکی خپل تن وبخښی په اراده دنکاح اوسړی يی په دغه مجلس کی قبوله کړی نونکاح به منعقد وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی شرعًا نکاح منعقد سوله په درمختار کی دی: وانما يصح بلفظ تزويج ونكاح وهو كل لفظ وضع لتمليك عين كاملة فی الحال الخ كهبة وصدقة وعطية الخ بشرط نية اوقرينة وفهم الشهود المقصود الخ انتهٰی ([1]) ملخصا. فقط

([1]). وشرطه حضور شاهدين (درمختار) ای يشهدان علی العقد (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۳ ج۲، ط.س ج۳ ص۲۱). ظفير

([2]). ولا المنكوحة مجهولة (درمختار) ظاهره انها لو جرت المقدمات علی متعينة تميزت عند الشهود ايضا يصح العقد لان المقصود نفی الجهالة وذالك بتعينها عند العاقدين والشهر الخ ويؤيده ما سيأتی من انها لو كانت غائبة وزوجها وكيلها فان عرفها الشهود وعلموا انه اراد كفی ذكر اسمها والا لابد من ذكر الاب والجد ايضا (ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۲۷ ج۲ ، ط.س ج ۳ ص ۱۵). ظفير

([3]). وينعقد بايجاب وقبول الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۱ ج۳، ط.س ج۳ ص ۹).

بغیر دایجاب اوقبول څخه نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۳۰\) که یوه ښځه بالغه وی اوپه وخت دنکاح ایجاب اوقبول نه وی سوی نونکاح به جائزوی اوکه نه؟

جواب: بغیر دایجاب او قبول څخه نکاح نه کیږی. (۲) فقط

ښځه اوسړی په رضامندی سره ددوو شاهدانو نکاح وکړی نودا صحیح ده: **سوال**: (۳۱\) زید او هنده دیوبل سره په رضا ددوو شاهدانو عابد اوزاهد په مخکی عقد وکړی ددی عقد علم صرف عابد اوزاهد ته دی آیا پردوی ددی اظهار ضروری دی اوکه نه؟

جواب: نکاح په دی صورت کی شرعًا صحیح اومنعقده ده ځکه چی کم اعلان شرط دانعقاد دنکاح دی هغه په دی صورت کی حاصل سو (۳) خومستحب اوسنت دادی چی عام اعلان دنکاح وسی. کما ورد اعلنوا هذا النکاح واضربوا علیه بالدف. (۴) فقط

دښځی داویل چی زه ستا منکوحه یم صرف په دی نکاح نه کیږی: **سوال**: (۳۲\) هندی عمرته وویل چی زه ستا منکوحه یم اوعمر ددی الفاظو څخه وروسته ساکت سو نونکاح منعقده سوه اوکه نه؟

جواب: په دی الفاظو نکاح نه کیږی ځکه چی په دی صورت کی ایجاب سته خو قبول نسته اودشاهدانو وجودهم په وخت دعقد دنکاح نسته چی شرط دنکاح دی. (۵) فقط

دګونګی نکاح به څنګه وی؟ **سوال**: (۳۳\) یوهلك کوڼ اوګونګی دی اوبالغ دی دده نکاح به څنګه کیدی سی؟

جواب: چی کم هلك کوڼ اوګونګی وی اوبالغ وی نوپخپله دده قبلول دجواز دنکاح دپاره شرط دی خوچی دی خبری نه سی کولی نو په اشاره به قبلول کوی اوفقهاء لیکی چی که دده لږ لیکل زده وي نولیکل دی دده په مخکی ولیکی اودا دی په ده ولیکی چی ماته قبوله ده، اوکه په لیکلو نه پوهیږی نوبیا صرف په اشاره سره قبلول کافی دی. ففی کافی

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۸ ج۲ ، ط.س ج ۳ ص ۱۲. ظفیر

(۲). ینعقد ملتبسا بایجاب من احدهما وقبول من الاخر (درمختار) ینعقد ای النکاح ای یثبت ویحصل انعقاده بالایجاب والقبول (ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۲۱ ج۲ ، ط.س ج ۳ ص ۹). ظفیر

(۳). النکاح ینعقد بالایجاب والقبول بلفظین الخ ولاینعقد نکاح المسلمین الا بحضور شاهدین حرین عاقلین بالغین الخ (هدایه کتاب النکاح ص ۲۸۵ ج۲). ظفیر

(۴). ویندب اعلانه وتقدیم خطبة وکونه فی مسجد یوم جمعة (درمختار) قوله ویندب اعلانه لحدیث الترمذی اعلنوا هذا النکاح واجعلوه فی المساجد واضربوا علیه بالدفوف فتح (ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۵۹ ج۲ ، ط.س ج ۳ ص۸). ظفیر

(۵). وینعقد الخ بایجاب من احدهما وقبول من الاخر وضعا للماضی الخ وحضور شاهدین حرین اوحر وحرتین مکلفین سامعین قولهما معا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۲۱ ج۲ ، ط.س ج ۳ ص ۹). ظفیر

الحاکم الشهید مانصه فان کان الاخرس لا یکتب وکان له اشارة تعرف فی طلاقه ونکاحه وشرائه وبیعه فهو جائز (۱) الخ (فقد رتب جواز الاشارة علی عجزه عن الکتابة فیفید انه ان کان یحسن الکتابة لاتجوز اشارته ردالمحتار کتاب الطلاق ص۴۸۵ ج۲ ظفیر). فقط

ښځې وکیل جوړکی نوده ایجاب وقبول وکی نو ددی څه حکم دی؟ سوال: (۳۴) هنده چې عاقله اوبالغه ده عمر یې دخپلی نکاح وکیل په مخکی ددوو شاهدانو جوړکی نوعمر زید ته وویل چی ته دهنده نکاح دخالد سره وکړه په دی ویلو سره زید مسنونه خطبه وویله اوپه خالد یی ایجاب وقبول وکی ددې څخه وروسته دعاء دتبرك وسوله او خوږې یا میټهائی هم تقسیم سوی ، په دی صورت کی نکاح شرعا صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په لوړ ذکر سوی صورت کی نکاح وسوه. دهندی عاقلی بالغی ویل چی کله اجازه دنکاح کولو زید ته ورکړه اوزید وروسته دتحقیق دحال اودبیان دشاهدانو څخه په مخکی ددوو شاهدانو ایجاب وقبول وکی نو دانکاح په اعتبار دشرعی قواعدو اودفقه دکتابونو دتصریح مطابق صحیح ده څه خامی اوخلل پکښی نسته دملایانو اعتراض غلط دی. (۲) فقط

د: انجلی می ورکړه، په ویلو سره نکاح کیږی اوکه نه؟ سوال: (۳۵) دوو سړیانو غلام محمد ته وویل چی تاخپله لور درحم علی زوی ته ورکړه نوغلام محمد وویل ما ورکړه، دغه مذکوره سړیانو رحم علی ته وویل چی غلام محمد لور درکړه. اوهغه خوشحاله سو او منظوره یی کړله نو دانکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: که ددوو شاهدانو په مخکی په مجلس دنکاح کی ایجاب اوقبول سوی وو نوپه دی صورت کی نکاح صحیح سوله (په درمختار کی دی: وهل اعطیتنیها ان المجلس للنکاح وان للوعد فوعد (۳) الخ). فقط

په ان شاء الله سره دعقد حکم: سوال: (۳۶) یو سړی په محفل دعقد کی ووایی چی کوچنۍ لور فلانی ان شاء الله په نکاح دفلانی ورکوم یعنی ان شاء الله په ژبه دبنګال په دی الفاظو (الله ویلی) سره ووایی ، نو دشرعی په بناء په دې ډول ان شاء الله تعالی ویلو سره نکاح وسوله اوکه نه؟

---

(۱). وګوری ردالمحتار کتاب الطلاق ص ۵۸۴ ج۲. ط.س ج ۳ ص ۲۱. ظفیر

(۲). وینعقد ملتبسا بإیجاب من أحدهما وقبول من الآخر وضعا للمضي کزوجت نفسي أو بنتي أو موکلتي منك ویقول الآخر تزوجت الخ وشرط حضور شاهدین حرین أو حر وحرتین مکلفین سامعین قولهما معا الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۶۱ ج۲ وص۳۷۳ ج۲، ط.س ج۳ ص۹). ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۶۳ ج۲، ط.س ج۳ ص ۱۲. ظفیر

جواب: په ایجاب اوقبول کی په ان شاء الله ویلو سره نکاح نه صحیح کیږی ولی چی په ان شاء الله سره عقد نه متحقق کیږی. وقد قال فی الدرالمختار هوعقد یفید ملك المتعة الخ وفی الشامی العقد بمجموع ایجاب احد المتکلمین مع قبول الآخر اوکلام الواحد القائم مقامهم الخ شامی ص **۳۵۵** وینعقد بایجاب وقبول وضعا للمضی لان الماضی ادل علی التحقیق (درمختار) وقوله علی التحقیق ای تحقیق وقوع الحدث الخ شامی ص ۳۲۱ ج۲ وظاهره انه لا تحقیق مع الاستثناء. (۱) فقط والله اعلم

<u>چی ترڅو ایجاب اوقبول دضابطی مطابق نه وی سوی ترهغه نکاح نه صحیح کیږی</u>: **سوال**: (۳۷) په هائلی مقام کی دنکاح مجلس منعقد سو لکه چی ددی ځای دستور دی چی په دفترکی مخکی دناکح اومنکوحې وکیل یادیږی او دشاهدانو نومونه ولیکل سی او وروسته دایجاب اوقبول څخه هردواړه فریقین خپل دستخط وکړی. نودلته دوه قاضیان موجود وه. مخکی په دفتر کی نوم وغیره لیکل غوښتل نو وکیل چی دهنده اکا هم وو ده وویل چی ددی قاضی په لیکلو ماته اعتراض دی که دا دوهم قاضی یې ولیکی نوزه به اجازه ورکړم کنی نه یې ورکوم. نوپه دی سره دهنده پلار وویل پریږده چی وې لیکی نکاح به دابل وکی مخکنی قاضی په دفتر کی دلیکلو څخه وروسته سوال وکی: چی آیا دنکاح ویلو اجازه سته نو وکیل وویل چی تاته بالکل نسته بیا اهل مجلس خبری اتری ثه سره واړولی دلیکلو څخه وروسته دزید ماما خبره پرې کړه اودده لاس یی ونیوی او ولاړ یی کړی زید هم ودریدی اودزید ورور دچوهاریو تالی لره لغته ورکړه او ولاړی، بیا معامله ختمه سوله. نوپه دی صورت کی نکاح وسوله اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ښکاره ده چی ایجاب اوقبول نه دی سوی نو دانکاح صحیح نه سوه کما فی درالمختار وینعقد بایجاب وقبول الخ وشرط حضور شاهدین الخ سامعین قولهما معا الخ. (۲) فقط

<u>چی په ایجاب وقبول کی دمهر ذکر نه وی نونکاح کیږی اوکه نه؟</u> **سوال**: (۳۸) چی دنکاح په وخت دمهر ذکر ونه سی نونکاح وسوله اوکه نه؟

جواب: نکاح وسوله اومهر مثل لازم سو. (۳) فقط

(۱). دسوال خلاصه داده چی په ایجاب کي وویل سوه: ان شاء الله ما په نکاح درکړه، دجواب خلاصه داده چي: په ایجاب او قبول کي په ان شاء الله سره چي کمه نکاح وسي هغه صحیح نه ده، ددې وجي چي دان شاء الله په لفظ سره دعقد تحقق نه حاصلیږي. ظفیر

(۲). وګوره الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۲۱ ج۲ ، ط.س ج۳ ص ۹. ظفیر

(۳). یصح النکاح وان لم یسم فیه مهر الخ وان تزوجها ولم یسم لها مهرا فلها مهر مثلها (الجوهرة النیرة کتاب =

دشاهدانوپه مخکې ایجاب اوقبول وسو اودغه ښځه ددې هلک دپاره حرامه سوه: **سوال**: (۳۹) یوسړې دیوی ښځې سره په مجمع کې خپله نکاح په رضا اوپه مینه وکړله دشاهدانو په مخکې ایجاب اوقبول وسو دنکاح څخه وروسته داسړې وایې دا ایجاب او قبول ما دخپل ځان دپاره نه دی کړې بلکه دخپل زوی چې نابالغ دی دهغه دپاره مې دا ایجاب اوقبول کړې دی، اوښځه هم راضی نه ده نو آیا دانکاح ددې هلك سره کیدی سی اوکه نه؟ او ددې سړې سره یې هم نکاح باقي پاته کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې چې کله سړې دشاهدانو په مخکې ښځه قبوله کړه اوپه شرعی طور باندې ایجاب اوقبول وسو نودا نکاح په خپله دده سره صحیح سوله، (۱) دی ددغه ښځې خاوند اودا دده ښځه سوله. نودصحت دنکاح څخه وروسته ددې سړې داویل چې مادا په خپله نکاح نه ده کړې بلکې دزوی مې کړیده معتبر نه دی. داښځه دهلك دپاره دهمیشه دپاره حرامه سوله اوس ددې سره دنکاح څه صورت نسته. قال فی الدرالمختار وزوجة اصله الخ دخل بها او لا الخ. (۲) فقط.

دنابالغ نکاح چې وسې اوقبول ولې وکړې داصحیح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۴۰) دزید ولی دده نکاح دلسو کالو په عمر کې وکړله خو قبول زید وکې نودا نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې دزید نکاح وسوله. (۳) فقط

په مذکوره طریقه سره نکاح وسوله: **سوال**: (۴۱) دیو نکاح خطیب داسې ایجاب او قبول ځینې واخیستې چې وروسته ترخطبې دنکاح څخه مخکې وکیل ومنکوحه ته مخاطب سو اودهغه راسته لاس یې په خپل راسته لاس کې ونیوی اووی ویل چې تاپه خپل وکالت سره دفلانی او دفلانی دوو سړیو په شهادت سره په حضور ددې مجلس کې فلانی نوم ښځه چې عاقله اوبالغه ده په عوض دیوسلو اوه ویشت (۱۲۷½) نیمو روپو کې فلانی دفلانی زوی ته په نکاح کې ورکړله، ښځه دې کړله دده، ده ته دې حق حلاله کړله، درې ځلور واره وکیل وویل ورمې کړله. دارکم یې په ناکح باندې قبوله کړله او ناکح وویل قبوله مې کړله آیا په داسې ایجاب اوقبول سره نکاح منعقد سوله اوکه نه؟

= النكاح ص ۲۹ – ۷۰ ج۲). ظفير

(۱). وينعقد بايجاب من احدهما وقبول من الاخر الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ص۳۲۱ ج۲ ، ط.س ج۳ ص۹). ظفير

(۲). الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ص۳۸۳ ج۲ ، ط.س ج۳ ص۳۱. ظفير

(۳). والولاية الخ تنفيذ القول على الغير ﷺ وهوشرط صحة نكاح صغير الخ (الدر المختار على هامش رد المحتار باب الولي ص۴۰۲ ج۲ ، ط.س ج۳ ص۵۵). ظفير

یوسړی دی وایی چی په ایجاب اوپه قبول کی په لفظ د (کړله) سره نکاح نه صحیح کیږی بلکه په لفظ د (درکړی می ده) سره نکاح صحیح کیږی، داخبره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په مذکوره طریقی سره ایجاب اوقبول صحیح دی. کذا فی عامة کتب الفقه من ان النکاح ینعقد بایجاب وقبول بشرط حضور الشاهدین ([1]) اوپه لفظ د (کړله) او د (درکړی می ده) کی په اعتبار دمعنٰی هیڅ فرق نسته دا دمحاوراتو فرق دی. په دی سره په مسئله کی هیڅ فرق نه راځی اومعنٰی دایجاب وقبول حاصله سوله. په لفظ د(قَبِلْتُ) کی داترجمه چی ماقبوله کړه، یا داچی: قبوله کړی می ده، دواړه صحیح دی. فقط

په داسی ایجاب وقبول سره نکاح وسوله: **سوال**: (۴۲\) دانجلی پلار نکاح خوان ته وویل زموږ دلور نکاح وکړه نونکاح خوان داسی وکړل تا ای عمره دزید لور په عوض دسلو (۱۰۰) روپو مهر کی قبوله کړیده، ده وویل ما قبوله کړیده، په دی سره نکاح وسوه اوکه نه؟ اونکاح خوان دپلار وکیل دی اوکه دښځی؟

جواب: په دی صورت کی په ایجاب اوقبول مذکوره سره چی کله داپه مخکی ددوو شاهدانو سوی وی نونکاح صحیح سوله. اونکاح خوان دپلار وکیل دی. ([2]) فقط

چی دشاهدانو په مخکی دایجاب څخه وروسته قبول هم وسی نونکاح صحیح سوله: **سوال**: (۴۳\) زید په حالت دمرض کی چی کله دده هوش اوحواس صحیح وه په مخکی دشیخ تصدیق حسین، محمد حسین اوصفی الله داسی وویل چی موږ خپله لور کلثوم چی نابالغه ده په عوض دفرض مهر مبلغ په نکاح نور محمد چی نابالغ زوی دشیخ بهیدو دی ورکړله. اوشیرنی وغیره یې دتقسیم دپاره راوغوښتله خو دشیرنی دتقسیم څخه مخکی زید مړ سو بیا وروسته دشپږو میاشتو دتیریدو څخه دزید موصوف سکه خور چی دکلثوم خاله ده ولی دنکاح سوله نودوهمه نکاح دکلثوم یی دزین الدین چی نابالغ سوی دسراج الحق مرحوم دی، سره وکړله. نوپه دی صورت کی کمه نکاح صحیح ده؟

جواب: داکم الفاظ مذکوره چی زید اداء کړیدی چی موږ خپله لور کلثوم چی نابالغه ده الخ دا ایجاب دی که ددی څخه وروسته دنور محمد دطرفه دده پلار شیخ بهیدو داویلی وی چی ما دخپل زوی نور محمد دپاره قبوله کړله نونکاح صحیح سوله ([3]) دوهمه نکاح

([1]). النكاح ينعقد بالايجاب والقبول بلفظين يعبرهما عن الماضى الخ ولاينعقد نكاح المسلمين بحضورشاهدين حرين عاقلين بالغين رجلين اورجل وامراتين (هدايه كتاب النكاح ص ۲۸۵ - ۲۸۶ ج۲). ظفير

([2]). امر الاب رجلا ان يزوج صغيرته فزوجها عند رجل وامراتين والحال ان الاب حاضر صح (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ص ۳۷۷ ج۲، ط.س ج۳ ص ۲۴). ظفير

([3]). وينعقدبايجاب من احدهما وقبول من الاخر الخ كزوجت نفسى اوبنتى اوموكلتى عنك ويقول الاخر تزوجت =

ددی انجلی په صحیح نه وی. كذا فی الدر المختار وغيره من كتب الفقه ([1]) فقط (خوكه قبول یی نه وی کړی نوبیا اوله نکاح صحیح نه ده. والله اعلم. ظفیر)

ښځه په کورکی یواځی وه دې دشاهد په مخکی ایجاب وکی، سړی قبول وکی ددی څه حکم دی؟ **سوال:** (۴۴) یوسړی اویوه ښځه دجائز نکاح مینه لری خوښځه دضرورت اومصلحت دکورنی دوجه په نکاح کی لږ صبر کوی نوسړی دوه شاهدان دباندی ددروازی څخه ودرول اودښځی څخه یی ایجاب وغوښتی. نوچی کله دی ایجاب وکی نوسړی قبوله کړله. نوپه دی صورت کی نکاح شرعا صحیح ده اوکه نه؟ حال دادی چی په دی کور کی صرف همدغه ښځه وه اوشاهد ددی اواز ښه پیژندی، ځکه چی دوی دواړه دیوه ځای اوسیدونکی وه.

جواب: په شامی کی دی چی: ولا بد من تمييز المنكوحة عند الشاهدين لتنتفي الجهالة، فإن كانت حاضرة منتقبة كفى الاشارة إليها، والاحتياط كشف وجهها، فإن لم يروا شخصها وسمعوا كلامها من البيت: إن كانت وحدها فيه جاز، ولو معها أخرى فلا لعدم زوال الجهالة ، الخ شامی ([2]).

نوددې څخه معلومه سوه چی نکاح په دی مسئوله صورت کی صحیح سوه. فقط

خفیه نکاح ددوو شاهدانو په مخکی وسوه ددی څه حکم دی؟ **سوال:** (۴۵) یوسړی دیوی ښځی سره پټه نکاح ددوو شاهدانو په مخکی کړیده اوتریو وخته پوری یی پټه وساتله او څو اسقاط دحمل یی هم کړیدی داجائز دی اوکه نه؟.

جواب: په دی صورت کی نکاح وسوه. ([3]) اواسقاط کولو ته دحمل دڅلورو میاشتو څخه مخکی جائز ویل سویدی ([4]) اودبیری دفتنی دوجه څخه په داسی وخت کی په اسقاط حمل کی څه حرج نسته. فقط (مګر دا طریقه د شریعت له مخي غوره نه ده ګڼل سوي، نو

= (درمختار) كزوجت نفسی الخ اشار الى عدم الفرق بين ان يكون الموجب اصيلا او وكيلا قوله ويقول الاخر تزوجت ای اوقبلت لنفسی اولموكلی اوابنی اوموكلتی (ردالمحتاركتاب النكاح ص۳۲۱ ج۲ ، ط.س ج۳ ص۹). ظفير

([1]). اما نكاح منكوحة الغير الخ فلم يقل احد بجوازه (ردالمحتار ص۴۸۲ ج۲، ط.س ج۳ ص ۱۳۲). ظفير

([2]). وګوره ردالمحتار كتاب النكاح ص۳۷۴ ج۲، ط.س ج۳ ص ۲۱. ظفير

([3]). ولايشترط الاعلان مع الشهود لما فی التبيين ان النكاح بحضور الشاهدين يخرج عن ان يكون سرا ويحصل بحضورهما الاعلان (البحر الرائق ص۹۴ ج۳ كتاب النكاح ، ط.س ج۳ ص۸۸). ظفير

([4]). وقالوا يباح اسقاط الحمل قبل اربعة شهر ولو بلا اذن الزوج (درمختار) قال فی النهر بقی هل يباح الاسقاط بعد الحمل نعم يباح ما لم يتخلق منه شيء ولن يكون ذلك الا بعد مائة وعشرين يوما الخ اثم هنا اذا اسقطت بغير عذر فاباحة الاسقاط محمولة على حالة العذر او انها لا تاثم القتل (ردالمحتار باب نكاح الرقيق ص۵۲۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۱۷۲ مطلب فی حكم اسقاط الحمل). ظفير

کم چي وسوه هغه وسوه ، ددې وروسته ځان ورڅخه ساتل پکار دي. ظفير)

په بنده کمره کی دشرعی شاهدانو په مخکی په ايجاب او قبول سره نکاح کيږی: **سوال**:

(۴۶) يوسړی يوه ښځه راوتښتوله اودا ښځه په اميد هم وه دی راتښتوونکی دخپل خاندان څلور سړی راوغوښتل اوپه بنده کمره کی يی ددی ښځی سره په ورځو دحمل کی نکاح وکړه، ددغه څلورو سړيانو څخه علاوه دمحلی يوسړی ته هم اطلاع نسته. دا عقد دشرع مطابق دی اوکه نه دی؟ سړی ښځه پريښووله او ولاړی دبچی پيدا کيدو څخه وروسته دا ښځه بله نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: که دوه سړی دايجاب اوقبول اوريدو والا موجود وی نونکاح کيږی اوپه صورت مسئوله کی څلور سړی دايجاب اوقبول اوريدونکی سته نومذکوره نکاح صحيح سوه ([1]) اوس چی ترڅو داخاوند ورته طلاق ورنه کړی دابل ځای نکاح نه سی کولی. ([2])

صرف په يو وار ايجاب قبول سره نکاح صحيح ده: **سوال**: (۴۷) يو وار په ايجاب او قبول کولو سره نکاح صحيح کيږی اوکه نه؟ اوښځی ته اختيار دفسخی دنکاح باقی پاته دی اوکه نه؟ **جواب**: نکاح کيږی. ([3])

په زور يی دښځی څخه اقرار واخيستی نونکاح وسوه: **سوال**: (۴۸) ديوی بالغی انجلی ايجاب مور اوپلار په وهلو اوټکولو واخيستی اويو هلك ته يی په نکاح کړله نو دانکاح وسوه او که نه؟

جواب: په زور اوپه وهلو ټکولو سره چی دبالغی انجلی څخه ايجاب اوقبول واخيستل سی هم نکاح کيږی کذا فی کتب الفقه ([4]).

دپلار او ددرو ښځو په وجود کی دهلک او دانجلی داويل چی که تاته منظوره ده نوماته هم منظور ده، نکاح وسوه اوکه نه؟ **سوال**: (۴۹) هنده خپل زوی بکر ته په وجود دخالد، صالحه، کليمه کی داوايی چی ته خپله نکاح دعائشی سره وکړه بکر جواب ورکی چی که

([1]). النكاح ينعقد بالايجاب والقبول الخ ولاينعقد الا بحضور شاهدين حرين عاقلين بالغين الخ (هدايه كتاب النكاح ص ۲۸۵ ج۲). ظفير

([2]). اما نكاح منكوحة الغير الخ لم يقل احد بجوازه (ردالمحتار مطلب في النكاح الفاسد ص۴۸۲ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۹). ظفير

([3]). ينعقد بايجاب من احدهما وقبول من الآخر الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ص۳۲۱ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۹). ظفير

([4]). اذ حقيقة الرضا غير مشروط فی النكاح لصحة مع الاكراه والهزل رحمتی (الی قوله) بل عباراتهم مطلقة فی ان النكاح المكره صحيح الخ ولفظ المكره شامل للرجل والمراة (ردالمحتار كتاب النكاح فی ضمن (يستحق رضاهما) ص ۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱). ظفير

عائشی ته منظوره وی نوما منظور کړله. عائشه په جواب کی وایی چی تاته منظوره وی زه یی هم منظوروم. نوپه دی الفاظو سره نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح وسوه (۱) اومهر مثلا لازم سو کما فی الدر المختار وکذا یجب مهر المثل فیما اذا لم یسم مهرا الخ (۲).

بغیر دشاهدانو نکاح جائزنه ده او وروسته په ذکر کولو سره هیڅ هم نه کیږي: **سوال**: (۵۰) زید دهندی سره نکاح وکړه خودغه وخت څه شاهد نه ؤ، وروسته زید دیوسړی په مخکی اوبیا دبل سړی په مخکی ذکروکی چی مادهندی سره نکاح کړیده نودانکاح صحیح سوه اوکه نه؟ بیازید هندی ته وویل که تا داکار ونه کی نوته په دری طلاقو طلاقه یی. نو هندی داکار ونه کی نو آیا پر هندی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دهندی اودزید نکاح نه ده سوی نوطلاق هم واقع نه سو، لان وقوع الطلاق فرع صحة النکاح قال فی الدر المختار وشرط حضور الشاهدین الخ سامعین قولهما معا علی الاصح (۳).

په لاندینی صورت کی نکاح وسوه اوکه نه؟ **سوال**: (۵۱) دکریمي پلار زید په نیت دکوزدی دکریمی چی نابالغه ده یومجلس جوړکی چی په دی کی دعمر چی نابالغه دی پلار بکر موجود دی، په دی مجلس کی زید اوبکر دخپلی لور او دزوی دپاره ایجاب وقبول په نیت دکوزدی برابره خبره ده که په خپله یی کړی وی اوکه په ذریعه دوکیل یی کړی وی په دی ایجاب وقبول نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: که په الفاظو دنکاح سره یی ایجاب وقبول وکی، مثلا دانجلی پلار وویل چی ما خپله لور دبکر زوی لره په نکاح ورکړه اوبکر دخپل زوی عمر دطرفه قبوله کړه نونکاح منعقده سوه اوکه په لفظ دهبی اعطاء وغیره په نیت دکوزدی ایجاب قبول وکی مثلا زید وویل چی ما خپله لور ستا زوی عمر ته ورکړه اوبکر قبوله کړه، نودا کوزده وسوه نکاح ونه سوه، کذا فی الدر المختار. (۴)

په ایجاب اوقبول نکاح:**سوال**:(۵۲) درحمت کونډی ښځی په خپله رضامندی سره په مخکی

---

(۱). ځکه چي ایجاب او قبول په خپل مابینځ کي وسو ، وینعقد متلبساً بایجاب من احدهما وقبول من الآخر الخ (ایضاً کتاب النکاح ص۳۲۱ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۹). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ص۴۲۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۱۰۸. ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۵۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۲۱. ظفیر

(۴). او هل اعطیتنیها ان المجلس للنکاح وان للوعد فوعد (درمختار) قوله ان المجلس للنکاح ای لانشاء عقده لانه یفهم من التحقیق فی الحال فاذا قال الاخر اعطیتکها اوفعلت لزم ولیس للاول ان لایقبل (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۴ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۱۲). ظفیر

ددوو شاهدانو خپل تن محمود ته ورکړی هغه قبوله کړه خو په عام طور باندی چی کم دنکاح شهرت کیږی داسی شهرت ونه سو نو دانکاح صحیح ده اوکه نه وروسته ددی نکاح څخه که داښځی بله نکاح دعرف مطابق سره دشهرته وکړی نودا نکاح صحیح ده اوکه نه؟ اودمخکی خاوند دعوٰی دنکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: چی کله ددوو شاهدانو په مخکی ایجاب اوقبول وسو نونکاح وسوه، که څه هم مشهوره سوی نه وی ددی څخه وروسته بله نکاح باطله ده اوحرامه ده، په درمختار کی دی: وانما يصح بلفظ تزويج ونكاح الخ وما وضع لتمليك عين الخ في الحال الخ كهبة وتمليك الخ بشرط نية وقرينة وفهم الشهود المقصود الخ (۱) نومعلومه سوه چی تمليك په نيت دنکاح اودشاهدانو په پوهه اوپه تقرر دمهر سره وروسته دقبول دخاوند په وجود دداسی دوو شاهدانو چی اوریدونکی وی په یوه وخت کی قول ددوی دواړو لره نکاح منعقد کیږی. (۲)

<u>ددوو شاهدانو په مخکی په ایجاب وقبول سره نکاح جائزده</u>: **سوال**: (۵۳) زيد ديوی ښځی سره عقد وکی او دمحلی والا څخه یی پټه وساتله، عقد داسی وسو چی ښځی بغیر دخپل مور او دپلار دنوم او دپتی څخه بغیر دتعین دمهر څخه صرف دا وویل چی زه دده سره رضامنده یم نوپه دی سره نکاح وسوه اوکه نه؟ او بیایی هم داسی په پټه طریقه طلاق ورکی اودی ښځی بیا بل ځای نکاح وکړه.

جواب: ددوو شاهدانوپه مخکی چی کله ښځی داوویل چی زه دفلانی سړی سره رضامنده یم اونکاح کوم اوخاوند قبوله کړه نودغه نکاح منعقده سوه (۳) او بیایی چی کم طلاق ورکی هغه هم وسو او دعدی تیریدو څخه وروسته بل ځای یی نکاح هم صحیح ده.

<u>ښځی اوسړی دخپلو ددوو شاهدانو په مخکی ایجاب او قبول وکی نونکاح صحیح ده</u>: **سوال**: (۵۴) زید او هندې په خپل مینځ کی لفظ دایجاب او قبول ددوو شاهدانو په مخکی وکی نو دا نکاح جائز ده؟ که یوسړی خپله نکاح بی اجازته دقاضی یا دمفتی وکړی چی ارکان او شرائط دنکاح پوره کړی نوجائز ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی کله ښځه اوسړی بالغ او دیو بل کفو او برابر وی په حضور

---

(۱). الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ص۳۲۸ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۱۲. ظفير

(۲). وشرط حضور شاهدين حرين او حر وحرتين مكلفين سامعين قولهما معاً على الاصح فاهمين انه نكاح على المذهب الخ (ايضاً ص۳۷۳ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۲۱). ظفير

(۳). وينعقد ملتبسا بايجاب من احدهما وقبول من الاخر وضع للماضي الخ كزوجت نفسي الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ص۳۲۱ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۹). ظفير

دشاهدانو کی په خپله ایجاب اوقبول وکی بغیر دوکیل اودقاضی څخه نونکاح صحیح ده اومنعقده ده اودنکاح خوان او دوکیل او دوکالت دشاهدانو هیڅ ضرورت نسته. کذا فی عامة کتب الفقه. (۱)

صرف ددوو شاهدانو په مخکی نکاح وسوه او دا یې دخادمی په طور وساتله نو جماع جائز ده اوکه نه: **سوال:** (۵۵/۱) زید دهندی سره ددی په رضا ددوو شاهدانو په مخکی په داسی ځای اووخت کی نکاح وکړه چی ددواړو خپلوان اودوستان نه وه موجود دنکاح وروسته زید هنده په طور دخادمی خپل کورته بوتله اوتاکید یی وکی چی دابه دنکاح ذکر چاته نه کوی اوپه کور کی به په ښکاره په طور دخادمی اوسیږی آیا دداسی تعلقاتو په بناء ددوی په مینځ کی دښځی اودخاوند تعلقات جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی که دانکاح په کفو کی سوی وی نونکاح وسوه شرعًا او ددوی په مینځ کی دښځی اودخاوند ټول تعلقات جائزدی. په درمختار کی دی چی: فنفذ نکاح حرة بالغة مکلفة بلا رضا ولی (۲) الخ. فقط

په ټوکه کی په ایجاب اوقبول سره نکاح کیږی اوکه نه؟ **سوال:** (۵۶/۱) زید دځوکسانو سره داختر په ورځ دعمر په کورکی میلمه وو دخوراك دپاره ورغلی وو زید عمر ته وویل ته دی خپله فلانی لور زما دفلانی زوی سره په نکاح کړه عمر وویل ماخپله فلانی لور ستا دفلانی زوی سره په نکاح کړه زید په طور دولایت ددغه هلك مذکور دپاره قبول وکی شاهد موجود وو دا نکاح صحیح ده اوکه نه؟ ځوکاله وروسته چی انجلی بالغه سوه نو عمر ددی نکاح په بل ځای کی وکړه چی اوله نکاح منعقده سویده خوبیا هم عمر شرعی فیصله ونه منله په دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی مخکنی نکاح شرعًا منعقده ده (۳) ددوهم سړی سره ددی انجلی نکاح چی دپخوا څخه دبل په نکاح کی ده صحیح نه ده (۴) اوعذر دعمر شرعا قابل سماعت نه دی لقوله ﷺ **ثلث جدهن جد وهزلهن جد وعد ﷺ النکاح منها** (۵) نو دوهمه

---

(۱). وینعقد ملتبسا بایجاب من احدهما وقبول من الاخر الخ کزوجت نفسی الخ ویقول الاخر تزوجت (درمختار) اشار الی عدم الفرق بین ان یکون الموجب اصیلا اوولیا اووکیلا (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۱ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۹). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ص۴۰۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص **۵۵**. ظفیر

(۳). وینعقد بایجاب من احدهما وقبول من الاخر الخ کزوجت نفسی اوبنتی اوموکلتی الخ ویقول الاخر تزوجت او قبلت لنفسی اولموکلی اولابنی اوموکلتی (وګوری ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۱ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۹). ظ

(۴). اما نکاح منکوحة الغیر فلم یقل احد بجوازه اصلا (ردالمحتار، باب المحرمات ص۴۸۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۱۳۲). ظفیر

(۵). مشکوٰة باب الخلع والطلاق ص ۲۸۴ . ظفیر

نکاح کوونکی اوداجائز گڼونکی فاسق دی اودشرعی فیصلی څخه انحراف کونکی دی او دشریعت له احکامو څخه انحراف کول فسق اومعصیت دی.

بالغی انجلی په خپله دپردی څخه دشاهدانو په مخکی ایجاب وقبول وکی نوڅه حکم دی؟

سوال: (۵۷\) یوه پیغله انجلۍ ده دڅوارلسو کالو چی پرهغی دیو کال راهیسی حیض راځی خپله نکاح بغیر دمشوری دوالدینو څخه کولی سی دشاهدانو په مخکی په تیاره کی یادپردی څخه هاخوا یاددیوال څخه هاخواچی دواړه شاهدان دانجلی اودهلك ایجاب اوقبول ښه واوری او چی دابغیر ددی انجلی او دهلك دمور اوپلار دنومونو اخیستلو څخه وی نودا جائزده اوکه نه؟

جواب: دغه انجلی بالغه ده دمور اوپلار داجازی څخه بغیر خپله نکاح په کفو کی کولی سی ([1]) اوچی هلك اوانجلی په خپله ایجاب او قبول مخامخ وکړی نو دانجلی دنوم او ددی دپلار دنوم داخیستلو ضرورت نسته نوکه ددوو شاهدانو په مخکی هلك اوانجلی ایجاب اوقبول وکړی نونکاح به منعقده وی کذا فی الدر المختار . ([2]) فقط

بغیر دشاهده نکاح جائز نه ده: **سوال**: (۵۸\) نکاح بغیر دشاهد او دناکح څخه په شریعت کی جائز ده اوکه نه او دداسی نکاح دپاره وروسته ددی څخه چی په دی کی دښځی توب او دخاوند توب حق حاصل سوی وی طلاق ضروری دی اوکه نه او دشاهدانو کم شرطونه دی؟

جواب: چی ترڅو ددوو شاهدانو په مخکی ایجاب وقبول نه وی سوی نکاح به نه وی منعقد کما فی الدر المختار: وشرط حضور الشاهدین حرین اوحر وحرتین مکلفین سامعین قولهما معا علی الاصح ([3]) الخ چی دادوه شاهدان اصیل، مسلمان بالغ وی که څه هم فاسق وی. کما فی الدرالمختار ایضا ولو فاسقین الخ. فقط

قاضی صرف په نابالغه هلك قبول وکی نونکاح وسوه اوکه نه؟ **سوال**: (۵۹\) یوسړی دخپلی لور دنکاح کولو دپاره قاضی ته اجازه ورکړه قاضی صرف دهلك څخه چی نابالغه دی قبول واخیستی حال دادی چی دده پلار هم موجود وو. نه قاضی ده ته څه وویل اونه ده څه وویل نونکاح وسوه اوکه نه؟

([1]). فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضی ولی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ص۴۰۷ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۵۵). ظفیر

([2]). وینعقد بایجاب من احدهما وقبول من الاخر وشرط حضور شاهدین الخ (ایضا کتاب النکاح ص۳۲۱ وص ۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۳ وص۲۱). ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۳ – ۳۷۴ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۲۳. ظفیر

جواب: چې كله دهلك پلار په دې نكاح راضي وو او دهلك قبلول ده جائز وساتل نو نكاح وسوه ځكه چې نكاح په هغه تصرفاتو كې ده چې ماشوم تميز والا دخپل ولي په اجازه سره كولی سی. في الدرالمختار وماتردد من العقود بين نفع وضرر الخ توقف على الاذن فان اذن لها الولي فهما في شراء وبيع كعبد ماذون الخ. (١) فقط

نكاح وسوه چې هبه نامه به ليكو اوهبه نامه يې ونه ليكله نونكاح وسوه اوكه نه: **سوال**: (٢٠١) زيد دخپل زوی عمر نكاح دخالد دلور زاهد سره وكړه په وخت دانعقاد دنكاح په مهر كې څه خبرې وسوې خلاصه داچې دهلك پلار وويل چې زه به دخپل جائيداد څخه څه حصه هبه كړم دې ته نوجائيداد يې هبه هم كې. داټول كيدی سی خو مهر به ددی دسلو پاؤ باندی سلو څخه زيات نه تړی. نوچې نكاح په دې سلو پاؤ باندی سلو وسوه اوس دخالد داړخه تقاضا وسوه چې داسې هبه نامه وليكئ چې دهغه مضمون جز دمهر ياشرط دعقد وی كنې نكاح به پوره نه وی بلكې معلقه به وی زيد وايې چې هبه نامه به مطلق ليكو نكاح پوره وی اوكه معلق (زوړنده) ؟

جواب: په دې صورت كې نكاح پوره سوه په نكاح كې هيڅ څه توقف نسته زيد چې څه وويل صحيح يې وويل اودخالد قول غلط دی ځكه چې نكاح تعليق نه قبلوی اونكاح معلقه نه صحيح كيږی. كما في الدرالمختار والنكاح لا يصح تعليقه بالشرط (٢).

دپيغمبرانو دنكاح په باره كې څو سوالونه: **سوال**: (٢١١) دپيغمبرانو نكاح بغير دشاهدانو څخه صحيح ده اوكه نه؟ (٢) ترور او دماما لونې چې هجرت يې كړی وی دحضور ﷺ دپاره داپه نكاح سره صحيح دی اوكه نه بې دنكاح څخه؟ (٣) چې كمه ښځه خپل نفس پيغمبر ته هبه كړی نوداپه نكاح سره صحيح ده اوكه بې نكاح اوداحكم صرف دنبي دپاره دی اوكه دامت دپاره هم (۴) دنكاح احكام اوشرائط دپيغمبرانو دپاره هم وو اوكه نه؟ دحضور ﷺ نكاح چا ويلې وه؟

جواب: دلا نكاح الا بشهود (٣) حكم عام دی پيغمبرانو اوغير پيغمبرانو ټولوته شامل شامل دی اوچه كم امر بالخصوص دحضور ﷺ دپاره دجناب باری تعالى شانه دطرف څخه مخصوص دی پرهغه قياس نه سی كيدی.

٢. په نكاح سره صحيح دی.

---

(١). الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الماذون ص١٥٠ ج٥ ، ط.س. ج٣ ص ١٧٣، مطلب في تصرف الصبي ومن له الولاية الخ . ظفير

(٢). الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ص٤٠٥ ج٢، ط.س. ج٣ ص ٥٣. ظفير

(٣). هدايه كتاب النكاح ص٣٨٢ ج٢. ظفير

۳. دانکاح خاص دنبی کریم ﷺ دپاره ده ([1]).
۴. په نکاح کی چی کم شرائط دی هغه دټولو دپاره دی اونبی کریم ﷺ خپله نکاح غالبا په خپله کړیده. والله اعلم

دنفس هبه دنبی کریم ﷺ دپاره: **سوال**: (۲۲\) که یوه ښځه خپل نفس نبی کریم ﷺ ته هبه کوی نودوی ﷺ ددی سره بی نکاح اوبی مهره وطی کولی سی اوکه نه؟ په قرآن شریف کی خو یوازی دمهر معافی ده اودنکاح شرط خو یې ایښی دی، دتشریح سره بیان وکی.
جواب: داصحیح ده چی داحنافو په نزد ددی خصوصیت څخه مراد صرف دمهر نه کیدو خصوصیت دی اودهبه لفظ ددوی په نزد مجاز دی دنکاح څخه بهرحال مطلب دادی چی که یوه ښځه خپل نفس نبی کریم ﷺ ته هبه کړی اوحضور ﷺ یې منظور کړی نوبی مهره نکاح کیږی اوعلاوه دلفظ دهبه څخه په لفظ سره دایجاب اوقبول ضرورت نسته بلکی چی کله یوی ښځی وویل وَهَبْتُ نَفْسِیْ اودوی قبول کی نونکاح وسوه اومهر لازم نه سو ددی آیت: (وَامْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِنْ وَّهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ) همدا مطلب دی، ددی په تفسیر کی صاحب دجلالین لیکی النکاح بلفظ الهبة من غیر صداق ([2]) الخ داتفسیر موافق دمذهب دشافعی دی، اودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دهبه په لفظ دنورو نکاح هم منعقد کیږی ددوی په نزد خصوصیت صرف دمهر په نه کیدو کی دی. کذا فی الکمالین. ([3])

وکیل ددوو شاهدانو په مخکی ایجاب وقبول وکی څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۳\) دزید اودهنده په مینځ کی دکلونو داسی ناجائز ګډون وو چی کله په زړه کی یی هدایت راغی نوزید او هنده مشوره وکړه چی نکاح کول پکاردی نوزید عمر چی وکیل دی زنان خانی ته راوبلی او دهندی په مخکی یی عمرته وویل چی موږ نکاح کول غواړو، نکاح وکړه عمر وکیل دزید څخه دهندی په مخکی پوښتنه وکړه چی مهر څومره مقرر دی؟ نوزید وویل لس

---

[1]. عن سهل بن سعد ان رسول الله ﷺ جاءته امرأة فقالت یارسول الله انی وهبت نفسی لك الحدیث (مشکوٰة باب الصداق ص ۲۷۷) فی الحدیث ایماء الی قوله تعالی: وامرأة مومنة ان وهبت نفسها للنبی ان اراد النبی ان یستنکحها قال صاحب المدارك ای احللنا لك الخ خالصة لك من دون المؤمنین الخ قال النووي هذا من خواص النبی ﷺ ولا یجب مهرها علیه ولو بعد الدخول بخلاف غیره ﷺ (مرقاة المفاتیح علی مشکوٰة المصابیح ص ۴۴۵ ج۳). ظفیر صدیقي مفتاحي

[2]. جلالین مطبوعه اصح المطابق سورة احزاب ص ۳۵۲. ظفیر

[3]. وقال ابوحنیفه ینعقد النکاح لغیره ﷺ فانما خص النبی ﷺ لعدم وجود المهر علیه (حاشیه جلالین ص ۳۵۲). ظفیر

درهمه شرعی ددې څخه وروسته عمر وکیل دهندی څخه پوښتنه وکړه چی شاهد څوك دی هندی وویل چی شمس الحق اوعثمان ددې څخه وروسته عمر وکیل اوزید دزنان خانی څخه دباندی ووتل اوهلته شمس الحق اومحمد عثمان موجود وه بیا عمر وکیل دزید نکاح دهنده سره وکړه ددواړو شاهدانو په مخکی حاصل دکلام دادی چی ښځه یو سړی وکیل بالنکاح مقرر کړی نو دشاهدانو موجود کیدل دښځی په مخکی شرط دی او که نه؟ اودا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟ په هدایه ج۲ کتاب النکاح فصل فی الوکالة وغیره کی دی: وکذلك لو زوج رجل امرأة بغیر رضاها اورجلا بغیر رضاه وهذا عندنا فان کل عقد صدر من الفضولی وله مجیز انعقد موقوفا علی الاجازة (۱) په نکاح دفضولی کی جواز دعقد دښځی پر رضا موقوف دی سره ددی چی شاهدان دښځی په مخکی موجودنه وه اومذکوره صورت ددې څخه قوی دی ځکه چی ښځی په خپله اجازه ورکړیده اودوه غائبان شاهدان یی مقررکړیدی او داښځه کونډه وه دوهمه نکاح یې دزیدسره وه؟

جواب: چی هندې عمر دخپلی نکاح وکیل کی اوعمر دباندی ددوو شاهدانو په مخکی دهندی نکاح دزید سره وکړه اوزید قبوله کړله نو دانکاح منعقده سوه. ځکه چی ددوو شاهدانو وجود په وخت دایجاب اوقبول ضروری دی، دوکیل کیدو دپاره ددوو شاهدانو وجود ضروری نه دی داشهادت علی التوکیل دی ددی ضرورت هلته پیښیږی چی ښځه دتوکیل څخه انکار وکی (۲) قال فی الدرالمختار وشرطه حضور شاهدین حرین مکلفین سامعین قولهما فاهمین انه نکاح، (۳) اوښکاره دی وی چی دانکاح دفضولی نه ده بلکی دغه ښځی عمر وکیل ګرځولی دی نو ایجاب دعمر په منزله دایجاب دښځی دی ددی څخه وروسته قبلول دخاوند مفید دعقد دنکاح دی چی کله ایجاب دوکیل اوقبلول دخاوند ددوو شاهدانو په مخکی وی.

<u>ددروغو په اقرار سره نکاح نه کیږی</u>: **سوال**: (۲۴\) زما کونډی وریندار ته ناجائزه امید په نس سو زما پلار پرما زور راوړی چی ته ووایه چی زما نکاح ددی سره مخکی سویده، ددی وجه څخه ده جبراً زما څخه اقرار واخیستی خو ما نه همبستری کړیده اونه نکاح نو نکاح اوحمل به منل کیږی اوکه نه؟

جواب: داسی ددروغو په اقرار سره نکاح نه منعقد کیږی اوچی په حقیقت کی نکاح نه ده

---

(۱). وګوری هدایه ص ۳۰۲ ج۲. ظفیر

(۲). وقدمنا ان الشهادة علی الوکالة لاتلزم الاعند الجحود (ردالمحتار باب الکفاءة مطلب فی الوکیل ص ۴۴۸ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۹۷). ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۳ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱. ظفیر

سوی نوحمل به هم ثابت نه وی. (۱)

ښځه یوسړی وکیل کړی اودی یی بیا ددوو شاهدانو په مخکی دخپل ځان سره په نکاح کړی نودا جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۷۵) یوه ښځه اویو سړی دی چی په مینځ کی یی دعشق تعلق دی داسی پټه نکاح کوی چی چاته زموږ دنکاح پته ونه لګیږی صرف دوه شاهدان مقرر کوی او ددوی په مخکی خپله نکاح کوی خوداسی چی دوی ته قسم ورکوی چی بل چاته به دابالکل نه وایی خوښځی ددی شاهدانو په مخکی اقرار دنکاح نه کوی نکاح کوونکی سړی شاهدانو ته وایی چی ما دفلانی ښځی سره نکاح وکړه تاسی شاهد اوسی او ورسره داهم وایی چی دښځی ستاسی په مخکی اقرار ته ضرورت نسته ځکه چی ښځی زه وکیل کړی یم چی ته زما سره نکاح وکړه آیا داصورت دنکاح جائزدی اواسقاط دحمل شرعا جائزدی اوکه نه؟ او دښځی نان او نفقه خاوند پر خپل ځان نه ګنی وایی چی کله ښځه زما دکور څخه جلا آباده وی نو ددی نان او نفقه هم زما پرذمه نسی کیدی؟

جواب: ښځه بالغه چی یوسړی خپل وکیل جوړ کړی چی زما سره نکاح وکړه تاته اجازه ده اوداسړی خپله نکاح ددوو شاهدانو په مخکی ددی ښځی سره وکړی نو شرعا نکاح منعقده کیږی (۲) لکه چی په درمختارکی دی: وشرط حضور شاهدین (۳) الخ یعنی دنکاح دصحیح کیدو داشرط دی چی ددوو شاهدانو په مخکی ایجاب اوقبول وسی نودا پټه نکاح چی صورت یی په سوال کی بیان سویدی شرعًا صحیح ده، اواسقاط حمل په باره کی فقهاء لیکی چی دنفخ روح څخه مخکی اسقاط حمل جائز دی او ددی موده څلور میاشتی ده ددی څخه مخکی مخکی اسقاط حمل عند البعض جائزدی. کذافی الشامی (۴) او دنفقه حکم دادی که خاوند ښځه طلب کړی اودا دده کورته رانه سی الف نو دخاوند پر ذمه نان اونفقه واجب نه ده (۵) غرض دا چی داپټه نکاح په طریق مذکوره

---

(۱). ځکه چی ایجاب او قبول دهغه چا سره نه دی سوی چی دچا سره نکاح منعقد کیږی. ظفیر

(۲). ویتولی طرفی النکاح واحد بایجاب یقوم مقام القبول فی خمس صور کان ولیا او وکیلا من الجانبین واصیلا من جانب ووکیل او ولیا من اٰخر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکفاءة مطلب فی الوکیل ص۴۴۸ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۹۷). ظفیر

(۳). الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارکتاب النکاح ص۳۷۳ ج۲،ط.س. ج۳ص۲مطلب فی حکم اسقاط الحمل.

(۴). وقالوا یباح اسقاط الولد قبل اربعة اشهر ولو بلا اذن الزوج (درمختار) هل یباح الاسقاط بعد الحمل نعم یباح ما لم یتخلق منه شيء ولن یکون ذلك الا بعد مائة وعشرین یوما الخ وفي کراهة الخانیة ولا اقول بالحل اذا المحرم لوکسر بیض الصید ضمنه لانه اصل الصید فلما کان یواخذ بالجزاء فلا اقل من ان یلحقها اثم هنا اذا اسقطت بغیر عذر الخ (ردالمحتار باب النکاح الرقیق ص۵۲۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۱۷۶). ظفیر

(۵). لا نفقة الخ خارجة من بیته بغیر حق وهی الناشزة حتی تعود (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ص۸۸۹ – ۸۹۰ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۵۷۶). ظفیر

منعقد کیږی خو چی کم صورت په سوال کی لیکل سویدی په دی کی دتهمت بیره ده اودتهمت څخه ځان ساتل مناسب دی نومناسبه نه ده چی په مذکوره طریقه نکاح وسی ځکه چی دا امر دنکاح دغرض سره منافی دی په دی کی که څه هم واجب اعلان خو ادا کیږی خو داعلان او داظهار چی کم مقصود دشارع ﷺ دی اومستحب دی حاصل نه دی لکه چی په در مختار کی دی (یندب اعلانه) ای اظهاره ؒ لحدیث الترمذی: اعلنواهذا النکاح واجعلوه فی المساجد واضربوا علیه بالدفوف. (۱) فقط

ددوو شاهدانو په مخکی چی نکاح وسی خوانجلی ونه پیژندل سی نو داجائز ده اوکه نه؟

سوال: (۲۲\) دهندی عقد ثانی دهنده په مکان کی دزید سره ددوو شاهدانو په مخکی وسو چی دوی په مکان اوپه مالك مکان خبر وه. خوپه وخت دنکاح معرفت دهندې شاهدانو ته ونه سو، اوزید دوی ته وویل چی یوه ښځه دی مکان ته په غرض دنکاح راغلی ده، زه ددې سره نکاح کول غواړم تاسی شاهد اوسی دانکاح صحیح سوه اوکه نه؟ بیا زید هندی ته طلاق بائن ورکی او ورثه دهندی پرزید جبر وکی او دری طلاقه یی ځینی واخیستل په دی صورت کی دطلاق بائن په عده کی وروستنی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په شامی کی دی: فان کانت حاضرة منتقبة کفی الاشارة الیها (۲) الخ ددې څخه معلومه سوه چی په دی صورت کی نکاح منعقده سوه اودری طلاقه په دی واقع سول ځکه چی جبریه طلاق هم واقع کیږی او دطلاق بائن په عده کی دوهم اودریم طلاق هم واقع کیږی، په درمختارکی دی: الصریح یلحق الصریح ویلحق البائن بشرط العدة ؒ.(۳)

یوسړی انجلی ته وویل تا دفلانی نکاح په دومره مهر کی قبوله کړه بیایی هم دا هلک ته هم وویل دواړو قبوله کړله نکاح وسوه اوکه نه؟ **سوال**: (۲۷\) دبالغ زید او دهندی بالغی عقد کیږی په دی صورت چی هنده په یوخاص کور کی ناسته وه اوزید په دهلیز کی، عمر خاص کور ته ولاړی اوهندی ته یی وویل چی تاته دپنځوسو روپو په مهر کی دزید خاوندوالی قبول دی هندی وویل قبول می دی. دغه وخت په دی خاص کور کی دهندی سره دعمر څخه علاوه دوی ښځی بالغی نوری هم وی بیا عمر دهلیزته راغی اوزید ته یی وویل تاپه پنځوسو روپو مهر کی هنده قبوله کړه؟ زید وویل قبوله می کړه. په دی وخت کی دزید سره ډیر خلگ قابل دشاهدی موجود وه اوس په دی صورت کی دجواز دنکاح

(۱). ترمذی ص ۱۲۹ ج۱. ظفیر
(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱. ظفیر
(۳). ایضاً کتاب الطلاق باب الکنایات ص۲۴۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص۳۰۲، مطلب: الصریح یلحق الصریح. ظفیر

څه صورت دی که نکاح صحیح وی نودا به داقرار بالنکاح صورت وی اوکه دتوکیل فی النکاح؟ علاوه ددی څخه که دا داقرار بالنکاح صورت سی نودعمر سره دغه دوې پردی ښځی چی کمی په خاص کور کی وی شاهدانی داقرار بالنکاح دهندی کیدی سی؟ بینوا وتؤجروا!

جواب: په دی صورت کی نکاح وسوه ځکه چی دعمر هندی ته داویل چی تاپه پنځوسو روپو مهر کی الخ پرتوکیل محمول دی یعنی ماعمر دخپلی نکاح وکیل کی اوده ته یی اجازه دزید سره دنکاح ورکړه. بیاچی کله عمر دزید څخه ایجاب وقبول دنکاح وکی په حضور دشاهدانو نونکاح منعقده سوه، نودعمر زید ته داویل چی تاهنده په پنځوسو ۵۰ روپو قبوله کړه ایجاب دی اودزید ویل چی ماقبوله کړه قبول دی نوکه هنده معلومه وی اومجهوله نه وی یایی دپلار نوم اخیستی وی نونکاح منعقده سوه، په درمختار کی دی: وینعقد متلبسا بایجاب من احدهما وقبول من الآخر الخ (۱) اوښکاره ده چی وکیل دښځی په احدهما کی داخل دی اودښځی قائم مقام دی په دی نکاح کولو کی.

صرف په اقرار نامه لیکلو سره نکاح نه کیږي: **سوال**: (۲۸) زید دخپلی نولس ۱۹ کلنی لور کوزده دخالد سره کړی وه چی دهغه تقریبا لس کاله وسوه خو لا تراوسه دنکاح نوبت نه وو راغلی چی په دی کی زید دخپل ښار څخه بل ښارته په غرض دروزګار ولاړی هلته ځینی خلګو په څه طریقه یواقرار نامه ولیکله چی ما دخپلی لور نکاح ددی بل سړی سره وکړه اوکومه به یی، اوکه ومی نه کړه نودومره تاوان به ورکوم زیدوایی چی دا اقرار نامه په ما باندي په داسی حالت کی ولیکل سوه چی ماته څه دوایی را کول سوه اوزه بیهوښه سوم زه په دغه ځای کی نکاح نه غواړم اودمخکی سړی سره یی غواړم، آیا دزید دا اقرار نامه نکاح ده اوکه صرف وعده ده انعقاد دنکاح نه دی انجلی په خپله بالغه ده دې ته ددی اقرار هیڅ څه پته نسته نه ایجاب او قبول سویدی اونه نکاح ویل سویده صرف زید یی مجبوره کی اودهغه څخه یی اقرار نامه ولیکله که زید نکاح دلور په مخکی ځای کی کوی نوشرعًا نکاح به منعقده سی څه شرعی ممانعت خونسته؟

جواب: انجلی که څه هم بالغه وی که ددی پلار ددی نکاح دیوسړی سره بغیر داطلاع او دوجود څخه دبالغی لور وکړی اوچی انجلی ته کم وخت خبر ورسیږی نودا خاموشه سی نونکاح صحیح اومنعقده سوه کذافی الدرالمختار. اوانجلی دا فسخ کولی هم نه سی خو دانعقاد دنکاح دپاره ایجاب اوقبول ددوو شاهدانو په مخکی کول شرط دی داسی چی

(۱). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص۹. ظفیر

دا دواړه شاهدان ایجاب اوقبول واوری اودپلارداویل چې دخلګو په زورسره می دخپلی لور نکاح وکړه ایجاب دی که دا ایجاب خاوند قبول کړی که هغه دلته موجود وو او اوریدونکی دوه شاهدان هم وه نونکاح منعقده سوه اوکه خاوند نه وو خودده دطرفه یو بل سړی ولی یافضولی قبول کړی دشاهدانو په مخکی اوبیا خاوند ته په خبر کیدو باندی خاوند په دی نکاح راضی پاته سو اوده دا رد نه کړه بلکی جائز یی وساتله اوقبول یی کړله. نوبیاهم نکاح وسوه کذافی الدر المختار. اوکه دپلار ددی ویلو څخه وروسته چې ماخپله لور فلانی ته په نکاح ورکړه اوچا داقبوله نه کړله نه خاوند اونه دده ولی وغیره. نودا نکاح منعقده نه سوه. هکذا فی کتب الفقه. اوفقه داهم تصریح کړیده چې دنشی تصرفات، بیع، شراء اولور په نکاح ورکول وغیره نافذ اوصحیح کیږی نودپلار دا عذر چې زه بی هوښه وم اوپه نشه کی وم لغو اوباطل دی.

دانجلی دولی وکیل ایجاب وکی اودهلک وکیل قبول وکی نونکاح وسوه اوکه نه؟ سوال: (۶۹\) مشرف علی میانجی خیل زوی ابو الخیر ته اجازه ورکړه دخپلی وړی لور کلثوم مولوی اعظم الله ته دورکولو. نو ابو الخیر وویل مامسماة کلثوم مولوی اعظم الله ته ورکړه امام الدین وویل ما دمولوی اعظم الله دطرفه قبول کړه اوعام خرڅ یی هم حسب رواج ورکی اوابو الخیر واخیستی نودا نکاح دکلثوم دمولوی اعظم الله سره منعقد سوه اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: او هل اعطیتنیها ان المجلس للنکاح وان للوعد فوعد الخ وفی ردالمحتار قوله ان المجلس للنکاح ای لانشاء عقده لانه یفهم منه التحقیق فی الحال فاذا قال الآخر اعطیتکها اوفعلت لزم (۱) الخ اودارکم په درمختار کی دی چې الفاظ دهبه، تملیك، صدقه، عطیه، داټول کنایات دي که نیت په دی کی دنکاح وی یا قرینه وی نونکاح به منعقده وی الخ نوپه صورت مسئوله کی که دامجلس دانعقاد دنکاح وو اودا کلام په طور دخطبه نه وو او دشاهدانو په مخکی ایجاب اوقبول وسو نونکاح منعقد سوله.

په دې ایجاب قبول سره نکاح وسوه اوکه نه؟ سوال: (۷۰\) په ایجاب قبول کی صراحة لفظ دنکاح نسته بلکی کنایة ښځی داسی وویل. ماخپل ځان، عزت اوحرمت، تاته وسپاری سړی وویل ماقبول کی دغه وخت صرف دښځی پلار اوبالغ زوی موجود وو نور څوك نه وه نکاح وسوه اوکه نه دازنا خو نه ده؟

(۱). ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲. ظفیر

جواب: که دا الفاظ دنکاح په اراده ویل سوی وی نونکاح وسوه، قال فی الدر المختار وما عداهما کناية وهو کل لفظ وضع لتمليك العين الخ کهبة وتمليك وصدقة وعطية الخ بشرط نية او قرينة الخ وفيه ايضا وشرط حضور شاهدين الخ ولو فاسقين الخ او ابنی الزوجين وفي الشامي وليس هذا خاصا بالابنين الخ (۱) دغه مذکوره نکاح که څه هم دقاضی په مخکی نه ثابتیږی خو عندالله صحیح نکاح ده اومقاربت اومجامعت صحیح دی او دا دزنا په حکم کی نه ده. فقط

داسی یو صورت وښیاست چی پټ واده وسی: **سوال**: (۷۱) په بعضو قومونو کی دستور دی چی هلته څه غم وسی نو دیوه کال څخه مخکی به واده نه کوی بعضی وخت داسی کیږی نو بیا بعضي خلګ خپل شهوت نه سی بندولی نه ښکاره واده کولی سی اونه صحبت نو که داسی څه صورت دجواز وی چی په هغه کی انسان په شرعی حدودو کی دننه خپل شهوت پوره کړی او بیاپه کال تیریدو دانجلی سره ښکاره نکاح وکړی؟

جواب: که پټ ددوو شاهدانو ایجاب او قبول وسی نوشرعا نکاح وسوه بیا که غواړی نو وروسته دی دواده رسم اداء کړی (۲).

چی هرځای وی دنکاح دصحیح کیدو دپاره دوه مسلمانان شاهدان ضروري دي: **سوال**: (۷۲) یوسړی اویوه ښځه په ځنګل کی پرداسی مقام دی چی هلته څوك مسلمانان نسته چی شاهد سی اودوی دواړه په نکاح راضی دی آیا دوی ایجاب اوقبول کولی سی اونکاح به صحیح وی اوکه نه؟

جواب: بغیر دوجود ددوو مسلمانانو شاهدانو څخه چی ایجاب او قبول واوری نکاح نه صحیح کیږی (۳).

دخاوند قبلول چی شاهد وانه وري نونکاح کیږي اوکه نه؟ **سوال**: (۷۳) دزید اودهنده نکاح په ایجاب اوقبول وسوه خو دزید قبول شاهدانو وانه وریدی ددې څخه وروسته زید دهندې سره مباشرت وکی ، په دی صورت کی نکاح وسوه او که نه کم فعل چی زید وکی

(۱). وګوری ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲. ظفير

(۲). ويشترط الاعلان مع الشهود لما فی التبيين ان النكاح بحضور الشاهدين يخرج من ان يكون سرا ويحصل بحضورهما الاعلان (البحر الرائق کتاب النکاح ص ۹۴ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۸۸). ظفير مفتاحي

(۳). وشرط حضور شاهدين حرين مكلفين سامعين قولهما معا على الاصح (الدر المختار على هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۱) قوله عند حرين او حر وحرتين عاقلين الخ متعلق ينعقد بيان للشرط الخاص به وهو الاشهاد فلم يصح اى النكاح بغير شهود لحديث الترمذی البغايا اللاتی ينكحن انفسهن من غير بينة ولما رواه محمد بن الحسن مرفوعا لا نكاح الا بشهود الخ (البحر الرائق کتاب النکاح ص ۹۴ ج۳، ط.س. ج۳ ص ۸۸). ظفير

ددی څه حکم دی؟

جواب: چی دزید قبول شاهدانو وانه وریدی نونکاح ونه سوه کذا فی الدر ([1]) المختار نو په دوی دواړو کی بیا ایجاب او قبول ددوو شاهدانو په مخکی کول پکاردی اوچی کم فعل دزید څخه وسو، ددی څخه دی توبه کاړی.

دفرشتو په شاهدی سره نکاح نه کیږی: **سوال**: (۷۴\) بغیر دشاهدانو به څنګه نکاح منعقد سی که فرشتی شاهدی سی اونکاح وسی نودا به منعقده وی اوکه نه؟

جواب: داسی هیڅ صورت نسته چی په وخت دایجاب اوقبول دی شاهدان نه وی اونکاح دی وسی داسی نکاح چی بغیر دوجود دشاهدانو وی باطل اوکالعدم ده دانکاح نه ده او دزنا مواخذه به باندی وی ([2]) اودفرشتو په شاهد کولو سره هم نکاح نه کیږی. کرام الکاتبین دوی فرشتی خوهروخت دانسان دهرعمل کاتبان اوشاهدان دی خو دنکاح دپاره دا کافی نه دی ([3]) بلکه دوه مسلمانان سړی یا یوسړی او دوی ښځی په وخت دایجاب او قبول موجودیدل پکاردی.

دنکاح دپاره تحریر ضروری نه دی: **سوال**: (۷۵) په نکاح کی که دحاکم داړخه څخه تحریر ضروری وګرځول سی نوتحریر ضروری دی اوکه نه ؟ بغیر دتحریر به نکاح منعقد وی او که نه ؟

جواب: بی تحریره نکاح منعقده کیږی اوتحریرضروری نه دی شرائط دنکاح مثلا شاهدان وغیره ضروری کیدل دی اوتحریر کیدل او یانه کیدل ضروری نه دی. ([4])

بالغی ښځی په لفظ دهبی نکاح وکړه نووسوه:**سوال**:(۷٦) زیدمثلا دپنځو شپږو مسلمانانو عاقلانو بالغانو په مخکی دوهم عقد مثلا دهندی عاقله بالغه سره په لفظ دهبی وکړی مثلا هنده زید ته مخامخ وویل ماتاته خپل ځان وبخښی زید وویل ماته قبوله کړی ددې څخه وروسته هنده چی ښه عاقله بالغه ده دهغې پلار په زور ددی نکاح دیوبل سړی بکر سره وکړه په صورت مذکوره کی به دهنده اوله نکاح دزید سره ثابته وی او که به دوهمه

([1]). وشرط حضور شاهدین حرین اوحر وحرتین مکلفین سامعین قولهما معاً علی الاصح (درمختار) فلا ینعقد بحضرة النائمین والاصمین (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۳ – ۳۷۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱). ظفیر

([2]). وشرط حضور شاهدین مکلفین سامعین قولهما علی الاصح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۱). ظفیر

([3]). وفی الخانیة والخلاصة لو تزوج بشهادة الله ورسوله لا ینعقد الخ (البحر الرائق کتاب النکاح ص۹۴ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۸۸). ظفیر

([4]). والثانی اعنی الشرط الخاص انعقادسماع اثنین بوصف خاص للایجاب والقبول الخ ورکنه الایجاب والقبول حقیقة اوحکما (البحر الرائق کتاب النکاح ص۸۳ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۲۷۷). ظفیر

نکاح دبکر سره ثابته وی؟

جواب: لفظ دهبه کنایی دنکاح څخه ده که په دې کی نیت دنکاح وی اودا ددوو عاقلانو بالغانو شاهدانوپه مخکی ښځه ووایی اوسړی یی قبول کړی نونکاح وسوه (۱) اوچی کله دا نکاح دکفو سره وی نوپلار لره دفسخ خیار نسته اوپه بل ځای کی نکاح صحیح نه دی نو پلار چی په زور ددی نکاح په بل ځای کی کوی داصحیح نه سوه اواوله نکاح صحیح او نافذه ده په درمختار کی دی: وهوای الولی شرط صحة نکاح صبی ومجنون الخ لامکلف الخ فنفذ نکاح حرة بالغة بلارضا ولی انتهی ملخصا (۲) . فقط

په لاندینی ایجاب اوقبول سره نکاح کیږی اوکه نه؟ سوال: (۷۷) نکاح خوان دهندی نکاح په اجازه ددی په ولایت دماما ددی دعمر سره داسی وکړه. ای عمره! تا مسماة یاګهری چی دفلانی لور ده په عوض دسلو روپو مهر قبوله کړه عمر وویل ماقبوله کړه داسی په ایجاب او قبول سره نکاح کیږی اوکه نه؟

جواب: په مذکوره طریقه ایجاب اوقبول سره نکاح کیږی خو داضروری ده چی دانجلی دپلار نوم واخیستل سی یا داچی شاهدانو ته ددی حال معلوم وی اودوی انجلی پیژنی چی دا دفلانی لور ده. (۳)

چی ایجاب وی اوقبول نه وی نونکاح ونه سوه: **سوال**: (۷۸) داهل اسلام یوی ډلی په غرض دانعقاد دنکاح یومجلس منعقد کی په حاضر مجلس کی دانجلی پلار دنکاح خوان په اشاره ایجاب وکی، بیا هلك ته چی کم عاقل اوبالغ دی اوپه مجلس کی موجود وو دقبول وویل سوه نوده اودده پلار دقبول څخه سکوت وکی نونکاح منعقده سوه اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وینعقد ملتبسًا بایجاب من احدهما وقبول من الآخر الخ فلا ینعقد بقبول بالفعل کقبض مهر الخ قوله فلا ینعقد تفریع علی ماتقدم من انعقاد بلفظین (۴) الخ نومعلومه سوه چی په مسئوله صورت کی نکاح منعقده نه سوه .

په تیاره کی ددوو شاهدانو په مخکی ښځی او سړی ایجاب وقبول وکی نوڅه حکم دی؟

سوال: (۷۹) یوسړی دخپل هم کفو بالغی انجلی سره بغیر داجازی ددی دمور او پلار

---

(۱). فینعقد النکاح بلفظ الهبة والعطیة (البحر الرائق کتاب النکاح ص۹۱ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص۸۵). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ص ۴۰۷ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۵۵. ظفیر

(۳). وینعقد متلبسا بایجاب من احدهما وقبول من الاخر وضعا للماضی لان الماضی ادل علی التحقیق کزوجت نفسی اوبنتی اوموکلتی منك ویقول الاخر تزوجت (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص۳۲۱ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۹) لوکانت غائبة وزوجها وکیلها فان عرفها الشهود وعلموا انها ارادها کفی ذکر اسمها والا لابد من ذکر الاب والجد ایضا (ردالمحتار ص۳۲۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۵). ظفیر

(۴). وګوری ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۹. ظفیر

څخه داسی نکاح وکړه چی دوه شاهدان چی مسافر وه پرلاره تیریدل ده په یوځای ودرول اودغه انجلی یی دغلته بوتله په سبب دتیاری او دبرقعی یوبل یی نه لیدلی سوای اوونه پیژندل سوه داسړی دی انجلی ته وایی تازه په حق دنکاح قبول کړم تا ماته دخپل نفس اختیار راکی دا جینی په جواب کی وایی هو! ما قبول کړی اواختیار می درکی وغیره، دا نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: په شامی کی دی چی: فان کانت حاضرة منتقبةً کفی الاشارة الیها والاحتیاط کشف وجهها فان لم یروا شخصها وسمعوا کلامها من البیت ان کانت وجدها فیه جاز الخ [1] ددی عبارت څخه واضحه سوه چی په صورت مسئوله کی نکاح منعقده سوله.

په کنایی لفظ سره ایجاب وسو نو ددی سره نکاح وسوه اوکه نه؟ سوال: (۸۰) زید په یومکان کی دیوڅو سړیو سره ناست وو په دی کی هنده راغله اووی ویل ما خپل نفس زید ته وبخښی دزید شاهد پوښتنه وکړه مهر به څه وی ده وویل یوسلو اوه ویشت نیمی روپی زید قبول وکی ددی څخه وروسته هندی دوهم عقد دعمر سره وکی داعقد ثانی صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دالفظ چی ماخپل نفس زید ته وبخښی کنایه ده دنکاح څخه، په دي کی نیت دنکاح یا قرینی ته ضرورت دی اوصرف ذکر دمهر قرینه نه ده کما حققه الکمال. شامی [2] او داچی شاهدانو ته معلومه وی چی دانکاح ده نو که دا امور وی نونکاح سویده بیا په دی صورت کی دهندی دوهمه نکاح دعمر سره صحیح نه ده اوکه په نیت دنکاح یی دا لفظ نه وي ویلی اودمهر څخه ماسوا بله قرینه هم نه وه نوبیا دزید سره ددی نکاح نه ده سوی په دی صورت کی دعمر سره نکاح صحیح سوه.

دیوي شبهي جواب: **سوال**: (۸۱) ددی شبهی څه جواب دی: ولو زوج ابنته البالغة العاقلة بمحضر شاهد واحد جاز ان کانت ابنته حاضرة لانها تجعل عاقدة والا فلا، [3] دا دال دی پر جواز دنکاح داسي چي دا مامور چي په ظاهره عاقد معلومیږی سفیر محض ګرځی او شاهد کیږی اوعاقله بالغه په خپله عاقده ګرځی. نو دمامور ویل تلل راتلل دعاقد فی

---

[1]. ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۴ ج۲. ط.س. ص ج۳ ص۲۱ مطلب الحضاف کبیر فی العلم الخ. ظفیر

[2]. وإنما يصح بلفظ تزويج ونكاح لأنهما صريح وما عداهما كناية وهو كل لفظ وضع لتمليك عين كاملة الخ كهبة وتمليك وصدقة وعطية الخ وكل ما تملك به الرقاب بشرط نية أو قرينة وفهم الشهود المقصود (درمختار) هذا ماحققه الفتح ردا على ماقدمناه عن الزيلعي حيث لم يجعل النية شرطا عند ذكر المهر الخ حاصل الرد ان المختار انه لابدمن فهم الشهود المراد (ردالمحتارکتاب النکاح ص۴۲۵ ج۲ و۳۶۹ - ۳۷۰ ج۲. ط.س.ج۳ ص۱۲). ظ

[3]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۲. ظفیر

الشهادت لغودی.اودراتلونکی عبارت څخه صراحة معلومیږی چی لغونه دی.هغه دادی: ثم ام اتقل (۱) الخ معلومول ددې پکار دی چی ترجیح کم یوه لره ده؟

جواب: په دې دواړو عبارتونو کی چی تا لیکلی دی څه تناقض اوتدافع نسته داول عبارت څخه یی دانعقاد دنکاح حکم بیان کړیدی اوپه دوهم عبارت کی دقبول اودعدم قبول دشاهدی ذکردی. دا داسی دی لکه چی فقهاء لیکی چی شاهدین که فاسق وی نو نکاح منعقده سول خوکه نزاع وسی اودشاهدی ضرورت پیښ سی نو دفاسق په شاهدی به نکاح نه ثابتیږی. (۲)

داصحیح ده چی دشاهدانو څخه بغیر نکاح نه کیږی: **سوال**: (۱ ۸۲) زید وایی چی بغیر دحضور دشاهدانو څخه عقد دنکاح نه سی منعقد کیدی، آیا دا صحیح ده؟

جواب: بغیر دحضور دشاهدانو څخه به نکاح منعقد نه وی، والتفصیل فی کتب الفقه. (۳)

دښځی په وجود کی هم دشاهدانو کیدل ضروری دی: **سوال**: (۸۳۱) یوسړی اویوه ښځه یو سړی ته راغلل اوده ته یی وویل چی ته زموږ ددواړو نکاح وکړه ده ورته وویل چی دنکاح دپاره دوه شاهدان ضروری دی، دی ښځی ورته وویل چی که زه نه وای نوبیا دوکیل او دشاهدانو ضرورت وو، دی سړی ددواړو نکاح وکړه اودواړه په شان دښځی اوخاوند اوسیږی اواولاد هم سویدی دانکاح صحیح ده اوکه نه آیا ددوو شاهدانو وجود دنکاح دپاره ضروری دی اوچی کم اولاد وسو ددی څه حکم دی که څه هم دنکاح په وخت دوه شاهدان نه وه خو دشاهدی دنکاح دپاره یوشاهد نکاح ویونکی موجود دی او وروسته چی دکمو سړو په مخکی ښځی اوخاوند دخپلی نکاح تذکره کړیده دوی دنکاح کیدو شاهدان کیدی سی اوکه نه؟

جواب: بغیر ددوو شاهدانو دوجود څخه چی ایجاب اوقبول واوری نکاح نه منعقد کیږی لکه چی په حدیث پاك دی. لانکاح الابشهود. هدایه (۴) اوپه درمختارکی دی: (۵) وشرط

---

(۱). وګوری الدرالمختار علی هامش کتاب النکاح ص۳۷۷ ج۲. ظفیر

(۲). ولو فاسقین (درمختار) اعلم أن النكاح له حكمان: حكم الانعقاد وحكم الإظهار فالأول ما ذكره والثاني إنما يكون عند التجاحد في الإظهار الخ فلذا انعقد بحضور الفاسقين والأعميين الخ وإن لم يقبل أداؤهم عند القاضي الخ (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۳). ظفیر

(۳). ومنها الشهادة قال عامة العلماء انها شرط جواز النكاح هكذا في البدائع (عالمگیري مصري کتاب النکاح ص۲۵ ج۱، ط. ماجدیه ج۱ ص۲۶۷) وشرط حضور شاهدین حرین الخ مکلفین سامعین قولهما معا علی الاصح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۳ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۲۱). ظفیر

(۴). هدایه کتاب النکاح ص۲۸۲ ج۲. ظفیر

(۵). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۴ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱. ظفیر

حضور شاهدين حرين مكلفين سامعين قولهما معًا الخ انتهى. نو په صورت مذکوره کی نکاح منعقده نه ده ځکه چی ددوو شاهدانو موجودیدل او ایجاب او قبول اوریدل فرض دی اوشرط دی اوچی شرط موجود نه سو نومشروط هم موجود نه سو لکه چی قاعده ده ده چی: اذا فات الشرط فات المشروط. اوپه هدایه کی دی: لا ينعقد نكاح المسلمين الا بحضور شاهدين الخ (۱) اویو سړی دصحت دنکاح دشاهدی دپاره کافی نه دی، او وروسته مشهوره کیدل او دښځی او خاوند دنورو په مخکی ذکر کول په دې سره دنکاح انعقاد نه راځی (۲) او ددی نکاح څخه چی کم اولاد وسو دا ولد الحرام دی که څه هم احتیاط نسب ددی خاوند څخه عند البعض ثابت دی لکه چی په شامی کی دی: ان الدخول في النكاح الفاسد موجب للعدة وثبوت النسب ومثل له في البحر هناك بالتزويج بلا شهود الخ. (۳) فقط

چی شاهدنه وی نو دښځی او دسړی په تش ایجاب او قبول سره نکاح نه منعقده کیږی: سوال:

(۱۸۴) یوه کونډه ښځه دخاندان دبیری څخه چی جاهلان دی چی دوهمه نکاح عیب ګڼی دیوه نیك سړی سره په کلمه اوکلام دشرعی مهر په اعتبار نکاح وکړه سړی او ښځي دوه په دوه ایجاب اوقبول وکړی او دریم سړی باندی خبر نه کړای سو نودا نکاح به منعقده وی اوکه نه؟ اوکه نکاح منعقده نه وی نوپه جماع کولو باندی څه کفاره ده؟

جواب: بغیر ددی څخه چی ددوو شاهدانو په مخکی ایجاب اوقبول وسی نونکاح به صحیح نه وی، نودا جائزده چی ښځه بالغه په خپلی رضا سره خپله نکاح دخپل کفو سره وکړی اومور اوپلار خبر نه کړی اودشریعت مطابق مهر مقرر کړی اوښځه اوسړی روبرو ایجاب اوقبول وکړی او ددوو شاهدانو په مخکی وکړی اودا جائزده چی بغیر ددی دوو شاهدانو څخه بل څوك مطلع نه کړی (۴) نو که ددوو شاهدانو په مخکی یی ایجاب او قبول وکی نونکاح صحیح سوه او کوروالی هم صحیح دی. اوکه داسی نه وی نونکاح هم صحیح نه ده او کوروالی هم حرام او زنا ده نوچی څه یی کړیدی دهغه څخه دی توبه وکاږی او اوس دی نکاح ددوو شاهدانو په حضور سره وکړی.

---

(۱). هدایه کتاب النکاح ص ۲۸۲ ج۲. ظفیر

(۲). لو تزوج بغير شهود ثم اخبر الشهود على وجه الخبر لايجوز الا ان يجدد عقدا بحضرتهم (البحر الرائق كتاب النكاح ص۹۴ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۸۸). ظفیر

(۳). ردالمحتار باب العدة مطلب في النكاح الفاسد والباطل ص۸۳۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص۵۱۲. ظفیر

(۴). عند حرين اوحر وحرتين عاقلين بالغين مسلمين ولوفاسقين (كنز) بيان للشرط الخاص به، وهو الإشهاد فلم يصح بغير شهود الخ ولا يشترط الإعلان مع الشهود لما في التبيين أن النكاح بحضور الشاهدين يخرج عن أن يكون سرا ويحصل بحضورهما الإعلان (البحر الرائق كتاب النكاح ص۹۴ ج۳، ط.س. ج۳ ص ۸۸). ظفیر

په نکاح کې دشاهدي مطلب څه دی؟ سوال: (۸۵\۱) په نکاح کې چې کمه شاهدي جزء دنکاح ده ددې څه مطلب دی آیا دانکاح به صرف عند الناس معتبر نه وی اوکه عندالله به هم معتبر نه وی که ښځه اوسړی ایجاب اوقبول وکړی او شهادت نه وی نو ددوی دا فعل او یو ځای کیدل به عندالله زناوی او دا دواړه به ګنهګار وی اوکه نه صرف عند الناس به دا زنا شمارل کیږی؟

ایجاب او قبول چې بې دشاهدانو وی او وروسته بیا شهرت ورکړی ددې څه حکم دی؟ سوال: (۸۶\۲) که په وخت دایجاب اوقبول شاهدي نه وی او وروسته دخلوت صحیح څخه یاپه مخکې دخلوت صحیح دواړه یا یو مشهوره کړی چې زما نکاح سویده اوخلګ په دی یقین هم وکړی نوآیا داشهرت به قائم مقام دشاهدي وی اوکه نه؟ که چیری نه وی نوولی اوکه وی نو تحقق دنکاح به دشهرت دوخت څخه ګڼل کیږی اوکه ددې څخه مخکې؟ آیا دعند الناس هم په دې کې څه توجیه کیدی سی اوکه نه؟

دشاهدي مفهوم دایجاب اوقبول څخه وروسته په شهرت سره ادا کیږی اوکه نه؟ سوال: (۸۷\۳) په نکاح کې دشاهدي اصلي راز څه دی اوچې کم راز دی دغه راز اوفلسفه وروسته تر ایجاب وقبول څخه دشهرت عامه په وخت حاصلیدلی سی اوکه نه؟

په عدم دشاهدي باندې دانما الاعمال بالنیات اثر ولی نه کیږی؟ سوال: (۸۸\۴) که دعدم شهادت والا ایجاب اوقبول عندالله هم معتبر نه دی نوبیا دانما الاعمال بالنیات دکلیه څخه دا جزئیه ولې خارج ده او ددې حقیقي فلسفه څه ده؟

جواب: ۱. عندالله اوعند الناس په دواړو اعتبارو سره بې له اوریدو ددوو شاهدانو په ایجاب اوقبول نکاح نه صحیح کیږی او وطی چې په دی حالت کې وسی نودا به زنا وی.([1])

(۲) په وخت دایجاب اوقبول ددوو شاهدانو وجود اوددوی اوریدل ضروری دی اودنکاح دانعقاد دشرط دی، په وخت دایجاب وقبول ددوو شاهدانو دوجود څخه بغیر نکاح صحیح نه ده نه عند الله اونه عند الناس او دلیل ددې دا عبارت دی: وشرط حضور الشاهدین ([2]) الخ.

(۳) دنبي کریم ﷺ دمعلومیدو څخه وروسته دراز معلومولو ضرورت نه پاته کیږی حکم

([1]). فلم یصح النکاح بغیر شهود لحدیث الترمذی البغایا اللاتی ینکحن انفسهن من غیر بینة ولما رواه محمد بن الحسن مرفوعا لا نکاح الا بشهود فکان شرط ولذا قال فی مال الفتاویٰ لو تزوج بغیر شهود ثم اخبر الشهود علی وجه الخبر لا یجوز (البحر الرائق کتاب النکاح ص ۹۴ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۸۸). ظفیر

([2]). وګوری ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۰۳ ج۲. ظفیر

دشریعت بی دځه چون چرا اوبی دښکاره کیدو دحقیقت څخه او دمعلومولو دراز څخه منل پکاردی لکه چی الله ﷻ فرمایی: وما اٰتکم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا. ([1]) (دشاهدی فائده داده چی دزنا تهمت لیري سي او داتهمت ونه کړل سي، وروسته ترنکاح په شهرت کولو سره دا مقصد نه حاصلیږي. ([2]) ظفیر)

(۴) ددی متعلق همدغه جواب دی چی کم په ۳ نمبر کی تیر سو یعنی دشریعت دحکم حقیقی فلسفه او دراز معلومولو ضرورت نسته اوابطال داحکام شرعیه دحقیقی فلسفی پربناء صحیح نه دی (دلته ددی تعلق صرف دده دذات سره نه دی بلکی دخاندان او دسماج سره دی نوصرف اعتماد پرنیت کافی نه دی دشاهد په ذریعه دنیت مظاهره هم ضروری ده. ظفیر)

عالم چی کمه نکاح بغیر دشاهد څخه وکړه هغه صحیح نه ده: سوال: (۸۹\) که خالد دهندی سره زید ته چی عالم دی ولاړی چی دهندی نکاح زما سره وکړی زیددهندی څخه پوښتنه وکی هغه هم رضامندی ښکاره کړه زید خطبه دنکاح وکړه اوایجاب وقبول یی وکړی دا نکاح جائزده اوکه نه؟ که جائز نه وی نواوس څه کول پکار دی؟

جواب: دانکاح نه ده سوی ځکه چی بغیر ددوو سړو شاهدانو یا دیو سړی او ددوو ښځو دوجود څخه چی دوی ایجاب قبول اوری نکاح نه کیږی په دی صورت کی بیاپه حضور دشاهدانو نکاح کول پکاردی اودمخکی عمل څخه توبه کښل پکاردی. ([3])

دبی شاهد نکاح والا کوروالی کول زنا ده: سوال: (۹۰\) زید دهندی سره بی شاهدانو نکاح کړیده که څه هم دانکاح بی دشاهدانو ناجائزده سوال صرف دادی چی دا نکاح په غرض دتسلیم بین الناس منعقد نه وی نوآیا عند الله هم نه ده یعنی که دداسی نکاح والا ناکح دمنکوحی سره کوروالی وکی نودی عندالله دزنا مرتکب سو اوکه نه؟

جواب: چی په کمه نکاح کی دوه شاهدان نه وی نودا عندالله هم نکاح نه ده ([4]) اووطی کول په دی کی زنا ده. کما جاء عن ابن عباس رضی الله عنهما ان النبی ﷺ قال البغایا اللاتی

([1]). سورة الحشر : ۱.

([2]). وفي البدائع أن الإشهاد في النكاح لدفع تهمة الزنا لا لصيانة العقد عند الجحود والإنكار والتهمة تندفع بالحضور من غير قبول على أن معنى الصيانة تحصل بسبب حضورهما ، وإن كان لا تقبل شهادتهما ؛ لأن النكاح يظهر ويشتهر بحضورهما (البحر الرائق كتاب النكاح ص ۹۲ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۸۹). ظفیر

([3]). ولاینعقد نکاح المسلمین الا بحضور شاهدین حرین عاقلین بالغین مسلمین الخ اعلم ان الشهاده شرط فی الباب النکاح لقوله ﷺ لا نکاح الا بشهود (هدایه کتاب النکاح ص ۲۸۲ ج۲). ظفیر

([4]). ومنها الشهادة قال عامعة العلماء انها شرط جواز النکاح هکذا فی البدائع (عالمگیری مصری کتاب النکاح باب اول ص ۲۵۰ ج۱ ماجدیه ج۱ ص ۲۲۷). ظفیر

ینکحن انفسهن بغیر بینة والاصح انه موقوف علی ابن عباس رواه الترمذی. اقول والموقوف فی مثل هذا له حکم المرفوع کما تقرر فی الاصول قال فی اللمعات وفیه ان النکاح بلا شهود فاسد وهو المذهب عند جمهور الائمة (۱) الخ وفی الدر المختار: تزوج بشهادة الله ورسوله لم یجز بل قیل یکفر. (۲) فقط

دشیعه ګانو شاهدانو په وجود کی ایجاب قبول وسو نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۱) زید دخپلی لور واده په یوداسی مجلس کی وکی چی په دی مجلس دایجاب وقبول کی صرف دوه یاڅلورو شیعه ګان هم وه، او همدوی دشاهد حیثیت درلودی اوغالی شیعه ګان وه. دانکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: دنکاح په شاهدانو کی فقهاؤ دمسلمانو شاهدانو شرط ایښی دی، اودشیعه ګانو بعضی فریقی دکافرانو په حکم کی دی اوچی کم غالی نه دی هغه که څه هم فاسق دی خو کافرنه دی احتیاط دادی چی دانکاح بیا دسنی مسلمانانو په وجود کی وسی (۳).

په دوو شاهدانو کی یو دنکاح کول بیانوی اوبل دکوزدې نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۲) مدعی اومدعی علیه یوعالم ته دنکاح معامله یووړه عالم دمدعی څخه پوښتنه کوی دعویدار دنکاح څوك دی مدعی وایی چی زه په خپله ناکح نه یم ناکح په سفر کی دی زه دهغه ورور یم یوسړی دی هغه نکاح کیدل بیانوی اودوهم کوزده کیدل بیانوی، چی خطبه سویده نکاح نه ده سوی، او مدعٰی علیه هم وایی چی ما دخپلی لور خطبه کړیده. مدعٰی علیه ته عالم وایی نکاح صحیح نه سول ته دخپلی لور نکاح په بل ځای کی کولی سی په دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: چی کله دنکاح په دوو شاهدانو کی اختلاف راسی چی یو دنکاح ورکولو شاهدی ورکوی اوبل صرف دخطبی او دکوزدې بیان کوی. نوښکاره ده چی په صورت دانکار دمدعٰی علیه (دنکاح څخه) نکاح نه ثابتیږی فتوٰی ددغه عالم چی هغه په سبب دنه متفق کیدو ددوو شاهدانو دنکاح فتوٰی دعدم صحت دنکاح وکړه صحیح ده لکه چی په الدر المختار کی دی: وشرط حضور الشاهدین حرین مکلفین بالغین سامعین قولها معا علی

---

(۱). ترمذی مع حاشیه ص۱۳۰ - ۱۳۱ ج۱. ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۹ - ۳۸۰ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۴. ظفیر

(۳). وشرط حضور شاهدین حرین مکلفین سامعین قولهما معا الخ مسلمین لنکاح مسلمة ولو فاسقین (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۳ - ۳۷۴ ج۲) أن الرافضي إن كان ممن يعتقد الألوهية في علي ، أو أن جبريل غلط في الوحي ، أو كان ينكر صحبة الصديق ، أو يقذف السيدة الصديقة فهو كافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدين بالضرورة ، بخلاف ما إذا كان يفضل عليا أو يسب الصحابة فإنه مبتدع لا كافر (ردالمحتار باب المحرمات ص۳۹۸ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۲۷). ظفیر

الاصح (۱) الخ . فقط

یوسړي په خپله نکاح وکړه خو وايي چې په نشه کی وم نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۳\) بکر دهندی سره په خپله رضامندی نکاح وکړه دبکر عمر شل کاله او دهندی عمر دولس کاله دی بیا ددری ورځو څخه وروسته دخور اوداخښې په لمسون دنکاح څخه انکار کوی چې موږ په نشه کی وو خلګو موږ دهوکه کړو په نشه کی به یی رانه اقرار اخیستی وی چې دهغه موږ ته خبر نسته حال دادی چې داغلطه ده اوس نه دی هنده کورته بیایی اونه دی ورته طلاق ورکوی اونه نفقه ورکوی نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: دنابالغه دولی په واسطه سره که په حالت دصحت او دعقل او هوش دخاوند سره داسی دوه شاهدان په مخکی وي چې هغوی ایجاب اوقبول اوریدلی وی نکاح سوی وی نونکاح صحیح وسوه (۲) اودخاوند انکار معتبر نه دی اوبغیر دطلاق او دوفات دخاوند څخه بل څه صورت دجدایی نسته نفقه دښځی او دخاوند پرذمه واجب ده.

بغیر دشاهدانو نکاح مو وکړه جائزده اوکه نه؟ داولاد څه حکم دی اوداولاد امامت جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۹۴\) یوسړی دکونډې وریندار سره نکاح کول ښکاره کړل اودقوم څخه بهر دوه سړي ددیوال څخه هاخوا ودریدل او ددغی ښځی څخه یی بیان واخیستی چې زما نکاح دفلانی سره وسوه نه څوك نکاح ویونکی سته اونه شاهد نونکاح جائزده اوکه نه؟ او ددی ناکح څخه یی چې کم اولاد سویدی هغه صحیح دی اوکه ولد الزنا؟ اوپه دغه اولاد مذکور کی یو سړی امام جوړول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دوه شاهدان په وخت دایجاب وقبول کیدل ضروری دی چې ایجاب وقبول واوری که داسی ونه سی نونکاح سوی نه ده (۳)، او دبی شاهدی نکاح څخه چې کم اولاد وسی هغه ولد الزنا دی (۴) باقی ولد الزنا که صالح وی نوامامت یی صحیح دی.

صرف دیوه سړي او دیوې ښځې په مخکی په ایجاب او قبول سره نکاح نه ده صحیح: **سوال**: (۹۵\) یوی بالغی انجلی دیوسړی اودیوی ښځی په مخکی یوبالغ هلك ته وویل چې په

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۱. ظفیر

(۲). ولا ینعقد نکاح المسلمین الا بحضور شاهدین الخ (هدایه کتاب النکاح ص ۲۸۲ ج۲). ظفیر

(۳). وشرط حضور شاهدین مکلفین الخ سامعین قولهما معا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱). ظفیر

(۴). والمراد بالنكاح الفاسد النكاح الذي لم تجتمع شرائطه كتزوج الأختين معا والنكاح بغير شهود الخ يجب على القاضي التفريق بينهما الخ فظاهره أنهما لا يحدان وأن النسب يثبت فيه (البحر الرائق باب المهر ص۱۸۱ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۱۲۹) ددی څخه معلونه سوه چې که چیري ایجاب او قبول بې له شاهدانو سوی وي نو ګواکي دا نکاح باطله او فاسده ده مګر نسب به ددوی څخه ثابت وی. ظفیر

عوض دپنځو زرو روپو کی ما په خپله په نکاح کی قبوله کړه نوهلك قبوله کړه، علاوه ددی څخه نور څه احکام دعقد اداء نه سول مثلاً خطبه اوشاهد وغیره کیدل نودا نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وشرط حضور شاهدین حرین اوحر وحرتین مکلفین سامعین قولهما (۱) معا الخ نومعلومه سوه چی بی ددوو اصلیو سړیو یا دیوه سړی او ددوو ښځو دوجود څخه بغیر چی دوی ایجاب اوقبول واوری نکاح نه کیږی نوپه صورت مسئوله کی چي صرف یوسړی اویوه ښځه موجوده وه نونکاح نه سوه صحیح.

دښځی په کالت سره نکاح صحیح ده: **سوال**: (۹۶۱) که یوه ښځه بله ښځه یا یوسړی په خپله نکاح کولوکی وکیل کړي نو وروسته دثبوت دوکالت څخه نفس دمذکوري مؤکلي ښځي دسړی مذکور سره په نکاح ورکړی نونکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: که په وجود ددوو شاهدانو ایجاب اوقبول دنکاح وسی نو نکاح صحیح ده حاصل دا چی دښځی وکالت صحیح دی.

په ذریعه دخط په ایجاب اوقبول سره به نکاح کله صحیح وی: **سوال**: (۹۷۱) فاطمه یوه عاقله بالغه تعلیم یافته انجلۍ ده دشریعت دمسئلو څخه هم خبره ده او دراجپوت قوم څخه ده چی په هغوی کی تراوسه پوری هندوانه رسمونه چلیږی چی هغوی په یوه خاندان کی رشته وغیره نه کوی انجلۍ په خپله دیوه هلك سره چی ددوی دخاندان څخه دی خپله نکاح کول غواړی ګویا دقوم په لحاظ سره نکاح نه سی کولی باقی ددین په لحاظ سره هلك بالکل ددی کفودی اوس دا انجلی غواړی چی مخکی دده سره پټه نکاح کول غواړم وروسته به ددی اظهار وکړمه اومور اوپلار به مجبور کړم چی نکاح ومنی نواوس دا انجلی دکلی خلګ خو شاهدان کولی نه سی دپاره دنکاح ځکه چی دمخکی څخه دراز ښکاره کیدو بیره ده ددی وجه څخه انجلی په خپل لاس سره خپل مکمل حال اوایجاب لیکلی او ورکوی چی هلك دی یوې بلي خواته ولاړ سی او دشاهدانو څخه دی ایجاب وکړی په بل چا دي واوروی اوقبول دی کړی اوهم پردي کاغذ دی ولیکی او رادی وړی داسی به نکاح وسی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی که سړی دغه لیکل سوی ایجاب دطرفه دښځی ددوو شاهدانو په مخکیووایی او ددغه شاهدانو په مخکی یی قبول کړی نونکاح به منعقده سی (۲)

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱. ظفیر

(۲). وافاد المصنف ان انعقاد النکاح بکتاب احدهما یشترط فیه سماع الشاهدین قرائت الکتاب مع قبول الاخر. (البحرالرائق کتاب النکاح ص ۹۵ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۸۹). ظفیر

اويو صورت دجواز دادی چی دابنځه دی داسړی وكيل دنكاح كړی يعنی دادی ورته ووايی او يادی ورلره ليكلي وركړی چی ما تاته اختيار دركړيدی چی زما نكاح دخپل ځان سره وكړه اوسړی دی دا ددوو شاهدانو په مخكی ظاهر كړی اوقبول دی وكړی اويا دادی ووايی چی دابنځه ماپه خپله په نكاح كی اخيستی ده نو بيابه هم نكاح وسی. كذا فی الشامی (١) وغيره، اوچی دانكاح په كفوكی ده نوددی دصحت دپاره داولياء داجازی ضرورت هم نسته كذا فی الدرالمختار (٢).

ددوو درو سړيو په مخكی ښځی ايجاب وليكی اووی ليری اوسړی خط ووايه اوقبول يی كی څه حكم دی؟ سوال: (٩٨) يوی ښځی ددوو درو كسانو په مخكی يوسړی ته خط وليكی اووی ليږی چی زه په خپلی رضا ستا په نكاح كی په عوض دمهر شرعی راغلی يم اوده قبوله كړله نودا نكاح وسوه اوكه نه؟

جواب: په دی كی دجواز دنكاح صورت داليكل سويدی چی كم سړی ته ښځی ليكلی دی هغه ددوو شاهدانو په مخكی دښځی داخط واوروی او بيايی دا وويل چی ماقبوله كړله غرض داچي ددوو شاهدانو كيدل اودښځی دليك دوباره ويل اوددې څخه وروسته ددوو شاهدانو په مخكی قبلول شرط دجواز دی (٣).

په دهوكه سره دليك په ذريعه نكاح كيږی اوكه نه؟ سوال: (٩٩) كه يوسړی په دهوكه دښځی په مخكی دالفظ وليكی اوپيش يی كی او ورته ووايی داخط ووايه: ازوجنی معك، بيا ددی په جواب كی په خپله ووايی زوجت معك دانكاح وسوه اوكه نه؟

جواب: په داسی صورت كی په انعقاد دنكاح كی اختلاف دی (٤) ددې څخه علاوه حضور دشاهدانو پوهيدونكو شرط دجواز دی (١).

---

(١). واذا اذنت المراة للرجل ان يزوجها من نفسه فعقد بحضرة شاهدين جاز (هدايه فصل فی الوكالة ص ٣٠٢ ج٢). ظفير

(٢). فنفذ نكاح حرة مكلفة بلا رضا ولی الخ وله الاعتراض فی غير الكفو (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ص ٤٠٧ ج٢. ط.س. ج٣ ص ٥٥). ظفير

(٣). قال ينعقد النكاح بالكتاب كما ينعقد بالخطاب. وصورته: أن يكتب إليها يخطبها فإذا بلغها الكتاب أحضرت الشهود وقرأته عليهم وقالت زوجت نفسي منه أو تقول إن فلانا كتب إلي يخطبني فاشهدوا أني زوجت نفسي منه ، أما لو لم تقل بحضرتهم سوى زوجت نفسي من فلان لاينعقد؛ لأن سماع الشطرين شرط صحة النكاح ، وبإسماعهم الكتاب أو التعبير عنه منها قد سمعوا الشطرين (ردالمحتار كتاب مطلب التزوج بارسال كتاب ص ٣٦٤ ج٢. ط.س. ج٣ ص١٢). ظفير

(٤). قال فی الفتح لو لقنت المراة زوجت نفسی بالعربية ولا تعلم معناه وقبل والشهود يعلمون ذالك اولايعلمون صح كالطلاق وقيل لا كالبيع كذا فی الخلاصة ومثل هذا فی جانب الرجل اذا لقنه ولا يعلم معناه (ردالمحتار كتاب النكاح ص ٣٢٧ ج٢. ط.س. ج٣ ص ١٥). ظفير =

چې کله ددعاء په بهانه یې ایجاب واخیستی داسی چې شاهد نه وو نو نکاح صحیح نه سوه:

سوال: (۱۰۰۱) زید چې تعلیم یافته دی اوفقیر سړی دی دبکر کورته به تلی راتلی اتفاقا سره دده قصددبیت الله وسو دده سره خالد اوولید هم وه دوی دبکرکورته راغلل دروازی ته یې دبکر ښځه راوغوښتله اوورته یې وویل زما قصور معاف کړه زه حج ته ځم دبکر ښځی وویل تا زموږ څه قصور کړیدی خوزید ډیر اصرار وکی. دزیات اصرار دوجه دبکر ښځی وویل ما معاف کړی یې، ددې څخه وروسته یې دبکر دښځی لور را وغوښتله او ورته یې وویل چې ته څه وظیفه وایی نوهغه وویل چې لمونځ کوم اوچې کمه دعاء تا را ښوولی ده هغه وایم. هغه کمه دعاوه ده وویل داوه: نحمده ونصلی علی رسوله الکریم ددی څخه وروسته زید وویل دانوره هم ورسره وایه یعنی ذکر سوي انجلۍ ته یې وویل: رب زدنی مولانا یا رب زدنی مولانا. چې کله یې ورته دا الفاظ وښوول په دې حال کی دبهر دروازی څخه دخالد او دولید څخه علاوه یوعربی خوان یې هم را وغوښتی دده بیان دی چې دا الفاظ داسي وه زوجنی لله یا مولانا، دی انجلۍ دا الفاظ صحیح ونه ویل نوده ورته بیا وښوول نوبیا دی انجلۍ وویل زوجنی لله یامولانا. اوزید قبلت وویل، په داسی حالت کی چې ماسوا دعربی خوان څخه ددغه انجلی سره ددې دوو شاهدانو دا خیال وو چې دافقیر ددعا تعلیم ورکوی ددوی بالکل داخیال نه وو چې دا ایجاب اوقبول دی اونه موږ شاهدان یو بلکی دهغوی خیال وو چې دا ددعا تعلیم دی اودا انجلۍ هم په دې خیال داکلمات وایی چې دا دعاء ده نوپه دی صورت کی چې نه ښځی ته پته سته چې زه خپله نکاح کوم اونه شاهدانوته چې ددی ښځی نکاح کیږی ماسوا ددغه یوه عربی خوان څخه نوپه داسی صورت کې په: زوجنی یا مولانا لله سره به ایجاب وسی اوکه نه؟ او نکاح دزید ددغه انجلی سره وسوه اوکه نه؟ نه دغه وخت دمهر ذکر سوی اونه بیا وروسته ؟

جواب: په دی صورت کی نکاح منعقده نه ده، ځکه چې دښځی او دشاهدانو دومره پوهیدل ضروری دی چې په دی الفاظو سره نکاح منعقده کیږی اوچې دا دنکاح الفاظ دی اودا مجلس دنکاح دی که څه هم دحقیقت معنٰی ورته نه وی معلومه لکه چې شامی دصاحب ددرمختار ددی قول په تشریح کی لیکلی دی: ولایشترط العلم بمعنٰی الایجاب والقبول الخ لکن قید فی الدر وعدم الاشتراط بما اذا علما ان هذا اللفظ ینعقد به النکاح ای وان لم یعلما

(۱). وشرط سماع کل من العاقدین لفظ الاخر لیتحقق رضاهما وشرط حضور شاهدین حرین اوحر وحرتین الخ (ایضا ص ۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱). ظفیر

حقيقة معناه ([1]) الخ . فقط

دخط په ذريعه نكاح: **سوال**: (۱۰۱) زيد خپله لور بكرته وركړه اوده ته يې دا وويل چې ته ماته خپله لور راكړه ددې څخه وروسته زيد بكرته خط وليكى او ددرى كسانو دستخط يې باندى واخيستى نوپه خط نكاح جائز سوه اوكه نه؟

جواب: كه بكر زيد ته ددى مضمون خط ليږلى وى چې ما دخپلى لور نكاح ستاسره وكړه او مكتوت اليه دامضمون حاضرينو ته اورولى وى اوقبول يې كړى وى نونكاح منعقده سوه.

نكاح دخط او كتابت په ذريعه: **سوال**: (۱۰۲) مثلا يوى ښځى يوسړى ته وليكل چې زه ستاسره نكاح كول غواړم په دومره مهرته يې منظور كړه اودى سړى په جواب كې وليكل ماته منظوره ده اودى سړى ددوو سړيو په مخكى داخط واوروى او ددى جواب يې هم دوى ته واوروى نوآيا دانكاح وسوه خودى ښځى داخط په پټه دشرعى شاهدانو ليكلى وو اوكه دلته به هم ددوو شرعى شاهدانو ضرورت وى اوپه دى دواړو خطونو باندى ددواړو ډلو دشاهدانو دستخطونه هم په كاردى اوكه نه؟

جواب: په شامى كى په خط باندى دجواز دنكاح داصورت ليكلى دى چې مثلاً سړى ښځى ته خط وليكى چې زه ستاسره نكاح كوم اوښځه دوه شاهدان راوغواړى او ددوى په مخكى خط ووايى اوورته ووايى چې ماخپله نكاح دده سره وكړه الخ ددى صورت موافق داهم جائزده چې ښځه سړى ته خط وليكى اوسړى ددوو شاهدانو په مخكى دا خط ووايى اودا ووايى چې ما ددى ښځى سره نكاح وكړه غرض داچې كه ددوو شاهدانو په مخكى خاوند داخط ووايه اوقبول يې كى نونكاح وسوه ([2]).

په مذكوره خط نكاح ونه سوه: **سوال**: (۱۰۳) يواتلس كليزى انجلى خپله نكاح دمور او دپلار درضا څخه بغير په دى طريقه وكړه چې دچا سره يې نكاح كول غوښتل نوهغه ته يې وليكل چې زه په صحت اوثبات دعقل په خپلى رضا بغير دڅه جبر او دزور څخه خپل نفس تاته په عوض دپنځوسو روپو قرض مهر موجل كى ستا په زوجيت كى دركوم او د

([1]). ردالمحتار كتاب النكاح ص۲۲۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۵. ظفير

([2]). ينعقد النكاح بالكتاب كما ينعقد بالخطاب وصورته ان يكتب اليها يخطبها فإذا بلغها الكتاب أحضرت الشهود وقرأته عليهم وقالت زوجت نفسي منه أوتقول إن فلانا كتب إلي يخطبني فاشهدوا أني زوجت نفسي منه، أما لولم تقل بحضرتهم سوى زوجت نفسي من فلان لاينعقد؛ لأن سماع الشطرين شرط صحة النكاح، وبإسماعهم الكتاب أو التعبير عنه منها (ردالمحتار كتاب النكاح ص ۳۲۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲ مطلب التزوج بارسال كتاب). ظفير مفتاحي

شپږو شاهدانو نومونه يې هم وليکل نوپه دې صورت کې نکاح کيږې اوکه نه؟

جواب: صورت دجواز دنکاح په ذريعه دخط په شامي کې دفتح القدير څخه دانقل کړې دې چې که يوسړې ښځې ته وليکل چې زماسره نکاح وکړه دې ښځې شاهدان راوغوښتل او دوی ته يې وويل چې فلانی سړی زما سره نکاح کول غواړې شاهد سی چې ما دده سره خپله نکاح وکړه. نوپه داسې صورت کې نکاح منعقده سوه اوکه ښځې دشاهدانو په مخکې دسړې دا ړخه څخه کلام نه وی نقل کړې اوصرف دايې وويل چې ما خپله نکاح دفلانی سړې سره وکړه نونکاح به منعقده نه وی اوکه ښځه سړی ته وليکې چې ته زما سره خپله نکاح وکړه نوپه دې باندې سړې ددوو شاهدانو په مخکې دښځې پيغام نقل کې او وی ويل چې تاسې شاهدان سی چې ما ددې ښځې سره خپله نکاح وکړه نونکاح به منعقده سی الغرض په دې صورت کې دجواز دنکاح دپاره ضروری ده چې سړې ددوو شاهدانو په مخکې دانقل کړې چې فلانی ماته ليکلې دې چې دازما سره نکاح کول غواړې نوتاسې شاهدان سی چې ما ددې ښځې سره نکاح وکړه اوقبوله می کړله نوکه داسې وسی نونکاح به وسی. شامي . (۱)

چې کله دشاهدانو ايجاب اوقبول اوريدل محتمل وی نو دوباره دې نکاح وسي: سوال:

(۱۰۴۱) عمر وايي چې زما نکاح داسې وسوه چې زما دمنکوحې اکا چې ولی ددې دې، سره ددوو شاهدانو ولاړې او اجازه يې راواخيستله په مجلس دنکاح کې راغله او کرار يې زما په غوږ کې ايجاب وکې او ماهم په کرار آواز قبول کې او ماته يقين دې چې دا الفاظ دايجاب اوقبول زموږ دواړو څخه علاوه بل چابه نه وی اوريدلی نوپه دې صورت کې فسخ دنکاح اوتجديد دنکاح وسې اوکه څه کول پکاردې؟ که وجوب دفسخ ديانةً وی نوچې کم حقوقِ عباد دې چې عدم توريث اومهر مثل وغيره دي چې پرفسخ قضاء باندې مرتب کيږې دا پردې هم مرتب دې اوکه نه؟

جواب: دانکاره ده چې اوريدل او نه اوريدل دايجاب او قبول دشاهدينو محتمل وه نو تجديد دنکاح بغير دفسخ دنکاح دې وسې دتجديد دنکاح احتياطاً دپاره دمخکې نکاح فسخ ضروری نه ده لکه چې په کفر محتمل کې فقهاؤ تصريح کړيده چې تجديد دنکاح دې په جديد مهر وسې اوعدم توريث وغيره اموربه پردې مرتب نه وی اومهربه پرمخکې

(۱). قوله: فتح فإنه قال ينعقد النكاح بالكتاب كما ينعقد بالخطاب. وصورته: أن يكتب إليها يخطبها فإذا بلغها الكتاب أحضرت الشهود وقرأته عليهم وقالت زوجت نفسي منه أو تقول إن فلانا كتب إلي يخطبني فاشهدوا أني زوجت نفسي منه، أما لولم تقل بحضرتهم سوى زوجت نفسي من فلان لا ينعقد؛ لأن سماع الشطرين شرط صحة النكاح (ردالمحتار كتاب النكاح. مطلب الزوج بارسال كتاب ص۳۷۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲). ظفير

هم او دوهم هم لازم وی (۱).

صرف دیوه شاهد په وجود نکاح صحیح نه ده: **سوال:** (۱۰۵) دنابالغی انجلی پلار په خپله دیو سړی دزوی سره دخپلی لور نکاح وکړه او ددغه هلك پلار یی دخپل زوی دپاره قبوله کړی او دلته صرف یو ملا موجود وی ددی نکاح څه حکم دی؟

جواب: که هلك هم نابالغ وی نونکاح منعقده نه سوه ځکه چی صرف یوشاهد ملا صاحب باقی پاته دی. اوکه زوی بالغ وي نوتعبیر دپلار به ده ته راجع وی اوپلار به هم شاهد متصور سی نو نکاح منعقده سوه. کما صرح به الفقهآء (۲).

دکونډی نکاح یو مولوی صاحب ددوو ښځو په وجود کی دیو سړی سره وکړه نوڅه حکم دی؟

سوال: (۱۰۶) یومولوی صاحب دیوی کونډی بالغی څخه اجازه واخیسته ددوو شاهدانو په مخکی یعنی ددوو ښځو په مخکي، ددی نکاح یی دیوسړی سره وکړه نو دا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: که دغه ښځه په مجلس دنکاح کی وی نو بیابه مولوی صاحب نکاح خوان شاهد وګڼل سی اودوی ښځی یوسړی یعني دامولوی صاحب به شاهد سی او ددوی نکاح به منعقده سی کما فی الدر المختار: ولو زوجه بنته البالغة العاقلة به حضر شاهد جاز ان کانت حاضرة لانها تجعل عاقدة والا لا، الاصل ان الامر متٰی حضر جعل مباشرا الخ (۳) درمختار . فقط

دولی داجازی اخیستو په وخت شاهد جوړول ضروری نه دی، ددی وجه څخه نکاح وسوه:

سوال: (۱۰۷) زید دخپلی باکری بالغی لور څخه یوازي پوښتنه وکړه چی زه ستا نکاح دمحمود سره کوم نو دزید لور چی واوریدل نو چپ سوه وروسته بیا زید مجمع عام ته راغی اوبکرته یی وویل چی زما دلور نکاح دمحمود سره وکړه اودومره مهر مقرر کړه بکر خطبه وویله اومحمود ته یی وویل چی زید خپله لور په دومره مهر کی تاته په نکاح

---

(۱). وشرط حضور شاهدین حرین اوحر وحرتین مکلفین سامعین قولهما معا علی الاصح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱). ظفیر

(۲). ولو زوج بنته البالغة العاقلة بمحضر شاهد واحد جاز ان کانت ابنته حاضرة (درمختار) قید بالبالغة لانها لو کانت صغیرة لایکون الولی شاهدا لان العقد لایمکن نقله الیها بحر (ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۵) دسوال حاصل دادي چي یوه سړی دخپلي نابالغي انجلۍ نکاح دیوه بل سړی دزوی سره وکړه مګر په دې ډول باندي چي په دې مجلس کي دهلك او انجلۍ دپلار څخه ماسوا یوازي یو قاضي ؤ بل هیڅوك نه ؤ او دجواب خلاصه داده چي دا نکاح جائز نه ده ځکه چي یوازي یو شاهد ؤ البته که چیري هلك په خپله بالغ وي نو نکاح په دې صورت کي صحیح کیده . ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۵. ظفیر

درکړه محمود وویل ماقبوله کړه اوبکر دعقد په وخت کي دزید دلورنوم په دی وجه وانه خیستی چی دزید صرف هم یوه لورده نوپه صورت مسئوله کی دزید دلورنکاح دمحمود سره صحیح ده اوکه نه؟ او دخپلی لور څخه داجازي اخیستلو په وخت کي شاهدان دځان سره نه بیول یا دعقد په وخت کي دبکر دزید دلور نوم اخیستل په نکاح کی فساد راولی او که نه؟

جواب: په دی صورت کی دمحمود نکاح دزید دلور سره صحیح ده ځکه چی دانجلی ولی چی اجازه اخلی نودغه وخت اشتهار ضروری نه دی ([1]) صرف ایجاب اوقبول اوریدل ددوو شاهدانو شرط دی. کما فی الدرالمختار: وشرط حضور شاهدین الخ سامعین قولهما معًا فاهمین انه نکاح ([2]) اوچی کله دزید یوه لور ده نوجهالت مرتفع سو اودا امر دجواز دنکاح دپاره کافی دی لکه چی په ردالمحتار، شامی کی په شرح ددې قول دماتن کی: ولا المنکوحة مجهولة، داسي مذکور دی: فلو زوج بنته منه وله بنتان لا یصح الا اذا کانت احداهما متزوجة فینصرف الی الفارغة ([3]) الخ. فقط

<u>بالغه ښځه په خپله موجوده وه اوددی نکاح صرف ددی دپلار په وجود کی قاضی وکړه نو نکاح وسوه</u>: **سوال**: (۱۰۸) ښځه چي نامداره ده په (بګو) سره نکاح یې دعلی زمان سره سویده چی په هغه کی مندرجه ذیل وجوهات دی دفریقینو کورونه دیوبل څخه دلسو قدمونو په فاصله دی په وخت دنکاح کي دعلی زمان مور اومسمٰی مهنده شاهدان وه او یو قاضی صاحب دمهر نوم یی هم وانه خیستی قاضی ته یی نکاح خوانی هم ورنه کړه، وکیل هم څوك نه وو، اوفریقین بالغ وه دنکاح شپږ کاله وسوه خو تراوسه اباد سوی نه دی، نه علي زمان مسماة ته خرڅ اوخوراك ورکړیدی ددی ځای علمآء دې نکاح ته فاسده وایی آیا دانکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: که مسماة په بګو بالغه هم په مجلس دنکاح کی موجوده وه نوقاضی صاحب به شاهد شمارسی اونکاح به صحیح سی، اصل دادی چی دنکاح په وخت داسی شاهدان موجودوی چی هغوی ایجاب اوقبول واوری اوکه یوسړی اودوی ښځی شاهدی وی نوبیا

([1]). ولا یشترط الاشهاد علی التوکیل (البحرالرآئق کتاب النکاح ص۹۵ ج۳، ط.س. ج۳ ص۸۹) فإن استأذنها هو) أي الولي وهو السنة أو وکیله أو رسوله أو زوجها) ولیها الخ فسکتت) عن رده مختارة (أو ضحکت غیر مستهزئة أو تبسمت أو بکت بلا صوت الخ فهو إذن أي توکیل في الأول (درمختار) ای فیما استاذنها قبل العقد حتی لو قالت بعد ذلك لا ارضي ولم یعلم به الولی فزوجها صح (ردالمحتار باب الولی ص ۴۱۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۸). ظفیر

([2]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار . کتاب النکاح ص ۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱. ظفیر

([3]). ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۲۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۵. ظفیر

هم نکاح وسوه (۱) اوداهم مسئله ده چی که انجلی بالغه وی اودې نکاح خوان ته اجازه دنکاح ورکړه نونکاح منعقده کیږی ځکه چی نکاح خوان هم شاهد شمارل کیږی لکه چی په درمختار کی دی: ولو زوج بنته البالغة العاقلة بمحضر شاهد واحد جاز ان کانت ابنته حاضرة لانها تجعل عاقدة الخ (۲) اوکه دمهر ذکرنه وی نوهم نکاح منعقده کیږی اومهر مثل لازمیږی (۳) اونکاح خوان ته دنکاح پیسی نه ورکول یا وکیل نه کیدل څه ضروری دنکاح دانعقاد دپاره نه دی اوپه یوځای دښځی او دخاوند نه اوسیدل یاخرڅ او خوراك نه ورکول موجب دفسخ دنکاح نه دی خوکه خاوند دښځی حقوق ادانه کړی یانفقه ورنه کړی نو ګنهګار دی اونفقه دده پرذمه لازمه ده (۴).

ښځه که سړی وکیل کړی چی دخپل ځان سره می نکاح وکړه نوپه دی سره نکاح کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۹) مسماة زینب غواړی چی زما نکاح دعمر سره وسی خو دبیری دوجه څخه عمر کورته نسی رابللی ددی وجه څخه عمر یی خپل وکیل کی چی دی دي خپله نکاح دزینب سره وکړی نو داصحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی طریقی سره نکاح صحیح اوجائز ده دزینب او دعمر نکاح به په دی طریقه سره منعقده سی په درمختار کی دی: ویتولی طرفی النکاح واحد بایجاب یقوم مقام القبول في خمس صور کان کان ولیا او وکیلا من الجانبین او اصیلا من جانب ووکیلا او ولیا من اخر او ولیا من جانب او وکیلا من اخر . (۵) فقط

مشروطه نکاح صحیح ده که څه هم شرط پوره نه سی: سوال: (۱۱۰) علماء دین په دی مسئله کی څه وایی چی عمر زیدته وویل ته دخپلی لور نکاح زما سره وکړه زه همیشه ستا خدمت کوم اوپه هیڅ امرکی به نافرمانی نه کوم زید ددی په جواب کی وویل چی ته به دخپل اوسیدو ځای پریږدی اوزما سره به اوسیږی اوزما خلاف به نه اوسیږی اوچی خومره خلګ زماپه کورکی دی دهغوی خرچه به برداشت کوی او دنکاح معامله به نه

---

(۱). وشرط حضور شاهدین حرین اوحر وحرتین مکلفین سامعین قولهما معا (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب النکاح ص ۳۷۷ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۳). ظفیر

(۲). ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۳ . ظفیر

(۳). وإن لم یسمه أو نفاه فلها مهر مثلها إن وطئ أو مات عنها لما روي في السنن والجامع الترمذي عن عبد الله بن مسعود في رجل تزوج امرأة فمات عنها ولم یدخل بها ولم یفرض لها الصداق، فقال لها الصداق کاملا (البحر الرائق باب المهر ص ۱۵۲ج۳. ط.س. ج۳ ص ۱۴۲). ظفیر

(۴). فتجب (النفقة) للزوجة بنکاح صحیح علی زوجها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ص ۸۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۷۲). ظفیر

(۵). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی الوکیل والفضولی بالنکاح ص۴۴۸ ج۲. ط.س.ج۳ ص۹۵.ظ

ښکاره کوی نوزه به هلته داستا نکاح کوم اوبیا چی کله زما دکور خلګ راسی نو ددوی رضا به واخلم بیابه ددستور مطابق ستاسو نکاح وکړم اورخصت به دی کړم دایی وویل او صرف دده داطمینان دپاره یې ددوو شاهدانو په مخکی ایجاب او قبول وکی یعنی دنابالغی دطرف څخه زید چی ولی دی په خپله صورت دنکاح یی وکی ددې څخه وروسته چی کله دزید دکور سړی راغله نونه خو دلور مور یعنی دزید ښځه راضی سوه اونه عمر په مذکوره شرطونو کی یو شرط پوره کی یعنی دنکاح راز یی هم ښکاره کی او خپل داوسیدو ځای یی هم پرې نه ښووی اودزید سره نه اوسیدی اودده خرچه یی هم برداشت نه کړه اوددی سره اوس ددی اصرار کوی چی زما ښځه رارخصت کړه په دی صورت کی به دشرطونو مذکوره ؤ لحاظ کوو اونکاح به ناجائز ګرځوو اوکه دشرطونو به لحاظ نه وی اونکاح به جائزوی؟

جواب: په دی صورت کی نکاح وسوه دشرطونو په نه پوره کیدو سره په نکاح کی څه فرق نه راځی که څه هم خاوند لره دیانةً شرطونه پوره کول ضروری دی. خو په نه پوره کولو سره په نکاح کی څه فرق نه راځی. (۱) فقط والله اعلم ، کتبه مفتي مدرسهٔ هذا.

<u>**دیوه سړی او ددوو ښځو په حضور نکاح کیږی**</u>: **سوال**: (۱۱۱) دیوه سړی دیوی ډمی سره دیوه کاله څخه ناجائز تعلق ؤ وروسته بیا یوپوخ عمر سړی چی پرهیزګاره وو ددوی دواړو نکاح یې بغیر دموجودګی دوکیل اودشاهد څخه وکړه ښځه په کور کی دننه وه ددی سره ددی مور اوخور او ددغه مشر سړی ښځه وه اودغه مشر سړی موجود وو نو آیا دانکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: په نکاح کی شرط دی چی دوه شاهدان اوریدونکی دایجاب اوقبول یا یوسړی او دوی ښځی اوریدونکی دایجاب اوقبول وی (۲) نوپه دی صورت کی یودغه مشر سړی او دده ښځه او دوی ښځی نوری هم موجودی وی نودی ډمی دامشر سړی خپل وکیل کی اوده دخاوند څخه قبول وکی اودی مشر سړی اودوو ښځو واوریدی نونکاح شرعا صحیح ده. درمختار وغیره. (۳)

---

(۱). وللولی نکاح الصغیر جبرا ولو ثیبًا لزم النکاح (الدرالمختار) ص۱۹۲ ج۱ ، ط.س. ج۳ ص۲۵ باب الولی) ولا یثبت فی النکاح خیار الرؤیة والعیب والشرط (الی قوله) حتی انه اذا فعل ذالك فالنکاح جائز والشرط باطل الخ (عالمگیری مصری ص۲۵۵ ج۱. ط. ماجدیه ج۱ ص ۲۷۳). ظفیر

(۲). وشرط حضور شاهدین اوحروحرتین مکلفین سامعین معا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتارکتاب النکاح ص۳۷۳ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱). ظفیر

(۳). والوکیل شاهد إن حضر موکله کالولي إن حضرت مولیته بالغة، ولأنه لا فرق بین أن یکون المأمور رجلا أو امرأة فإن کان رجلا اشترط أن یکون معه رجل آخر أو امرأتان، وإن کان امرأة اشترط أن یکون معها رجلان أو =

دانجلی په وجود کی نکاح وسوه او دپلار نوم یی ذکرنه سو نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۲) دانجلی اودهلك دطرفه خلگ حاضر سول اوانجلی ته یی وویل په بدله ددوو سوو روپو مهر کی زید دی قبول کی نوانجلی وویل ما قبول کی حال دادی چی وکیل دهلك دپلار نوم وانه خیستی نوپه دی صورت کی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: که هلك حاضر په مجلس کی وی اوده په خپله قبول کړی وی خوبیا دپلار نوم ته ضرورت نسته [۱] اوکه دی په مجلس دنکاح کی نه وی خو شاهد وغیره او ناوی دی پیژنی نو بیا هم نکاح صحیح سوه [۲].

دعبد الرحمٰن په ځای یی درحمان لور وویل نونکاح صحیح سوه اوکه نه؟ سوال: (۱۱۳) دیوه سړی عبدالرحیم یا عبدالرحمٰن یاعبد الله نوم دی نوکه یوازی رحمان یارحیم ووایی او دنکاح په وخت داسی ووایی درحمان هلك درحیم انجلی، په دومره عوض مهر کی، نو آیا نکاح کیږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح کیږی [۳] خوښه داده چی پوره نوم واخلی که څه هم په وجه دعرف دی گنهگار نه دی. فقط

دولد الزنا انجلی دنکاح څه حکم دی؟ سوال: (۱۱۴) یوه هندو یوه مسلمانه ښځه وساتله دهغې ښځه یې څه اولادونه وسوه، او ددوی ښځه یی څه وخت وروسته دبالغیدو ښځه دخپلی یوی انجلی واده دیوه مسلمان سره وکی دنکاح په وخت دانجلی ښځه داجازی اخیستلو ښځه وروسته په ایجاب وقبول کی داسی وویل سوه چي: (دأشیُوپَرْشَادْ [۴] لور چي نوم یې فلانی دی) په دې سره په نکاح کی څه فرق خونه راځی دعاجز خیال دادی چی په دی صورت کی چی نوم اخیستل کیږی نو دمور دی وی. دنکاح ښځه وروسته خلگوته دخوراك دعوت وسو پردی دا اعتراض وسو چی اجرت دزانیې حرام دی، ددی وجه ښځه داخوراك صحیح نه دی، په دې سره ذکرسوي هندو وویل چی خوراك زه درکوم ددی سره یی دمورهیڅ مطلب نسته نوبیاشریکانودمجلس داخیال وکی چی دهندو دعوت

= رجل وامرأة (البحرالرائق کتاب النکاح ص۹۸ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص۹). ظفیر

(۱). ینعقد بایجاب من احدهما وقبول من الاخر الخ کزوجت نفسی الخ ویقول الاخر تزوجت (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۱ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۹). ظفیر

(۲). ان کانت غائبة ولم یسمعوا کلامها بان عقد وکیلها فان کان الشهود یعرفونها کفی ذکر اسمها اذا اعلموا انه اراد ها (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲). ظفیر

(۳). لان المقصود من التسمیة التعریف وقد حصل (ردالمحتارکتاب النکاح ص۳۷۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۲). ظ

(۴). دا دانجلی دهندو پلار نوم دی. حقاني

صحیح دی نوقبول یی کړی، دا خوارك شرعاً څنګه دی؟

جواب: داصحیح ده چی دولد الزنا نسب دمور څخه ثابتیږی اوددی اولاد نسبت مورته کیږی نوپه دی صورت کی دمور نوم اخیستل پکار وه، خو که شاهدان دنکاح په دی پوه وی چی فلانی انجلی ځینی مراده ده نوبیا دصورت مذکوره نکاح صحیح ده. لمافی الشامی وظاهره انها لو جرت المقدمات ای مقدمات الخطبة علی معینة وتمیزت عند الشهود ایضاً یصح العقد وهی واقعة الفتوٰی لان المقصود نفی الجهالة وذلك حاصل بتعینها عند العاقدین والشهود وان لم یصرح باسمها کما اذا کانت احداهما متزوجة ویؤیده ما سیأتي من انها لو کانت غائبة وزوجها وکیلها فان عرفها الشهود اعلموا انه ارادها کفی ذکر اسمها والا لا بد من ذکر الاب والجد ایضا [1] الخ. او دهندو ددعوت خوراك جائزدی ددی وجه څخه په مسئوله صورت کی جائزدی [2] که څه هم مشرانو لره په داسی مجالسو کی شرکت کول نه دی پکار.

(۱۱۵) سوال: چی دچا نکاح یی کوله نودهغه دخور نوم یی واخیستی نونکاح وسوه اوکه نه؟

مسماة حکیمه کونډه بالغه وه او دخپلی نکاح اجازه یې په خپله ژبه په مخکی ددوو شاهدانو ورکړه خوقاضی صاحب په خطا ددی دکشری خور سلمٰی نوم واخیستی او ایجاب او قبول یی وکی نونکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دحکیمه نکاح صحیح نه ده [3] اوسلمٰی که بالغه وی نو ددی نکاح پراجازه ددې موقوفه ده اوکه نابالغه ده نوددی دولی پراجازې موقوفه ده. [4]

(۱۱۶) سوال: چی ولدیت اوعرفی نوم صحیح وی نوکه اصلی نوم غلط وی بیاهم نکاح صحیح ده؟

دخالد نکاح مسماة حیاة النسآء عرف رضیه بیګم چی لور دزید ده پرده داری انجلی سره وسوه دقاعدی مطابق شاهدان داجازی دپاره مسماة مذکوری ته ورغلل وروسته داجازی څخه شاهدانو په جلسه عام کی قاضی ته شاهدی داسی وکړه سعادة النساء عرف رضیه بیګم بنت زید دخپلی نکاح اختیار عمر وکیل ته ورکی نوقاضی په

---

[1]. ردالمحتار کتاب النکاح تحت قول الماتن ولا المنکوحة مجهولة ص۳۲۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۵. ظفیر

[2]. ولا باس بالذهاب الی ضیافة اهل الذمة (عالمګیری کتاب الکراهة الباب الرابع عشر ص۳۴۷ ج۵. ط. ماجدیه ج۱ ص۳۷۷). ظفیر

[3]. غلط وکیلها بالنکاح فی اسم ابیها بغیر حضورها لم یصح للجهالة وکذا لوغلط فی اسم بنته الخ ولوله بنتان اراد تزویج الکبرٰی فغلط فسماها باسم الصغرٰی صح للصغرٰی (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۶). ظفیر

[4]. کل عقد صدر من الفضولی وله قابل یقبل سواء کان القابل فضولیا اٰخر ووکیلا او اصیلا انعقد موقوفا (عالمګیری کتاب النکاح باب سادس ص۲۹۹ ج۱. ط. ماجدیه ج۱ ص ۲۹۹). ظفیر

اجازی دعمر وکیل په مقررمهر مثل سره دخالد سره ددی نکاح وکړه نودخالد سره دمسماة مذکوره نکاح صحیح سوه اوکه باطله ځکه چی شاهدانو په غلطی سره دحیاة النساء بیگم عرف رضیه بیگم بنت زید په ځای سعادت النساء بیگم عرف رضیه بیگم بنت زید وویل اول داچی دسعادة النساء ولدیت زید نه دی دوهم دسعادة النسآء عرفیت رضیه بیگم نه دی نو دداسی غلطی سره نکاح کیږی اوکه نه؟

جواب: معروف نوم چی رضیه بیگم دی صحیح اداء سو نورضیه بیگم بنت زید هم صحیح سو ددی وجه څخه په صورت مذکوره کی نکاح منعقده سوه، ځکه چی غلط نوم غیر معروف سویدی اوپه معروف کی څه غلطی نسته اوچی عرف یی رضیه بیگم دی نو معروف نوم یی همدا سو نوددی ولدیت هم صحیح معلوم سو ددی وجه څخه دانکاح صحیح ده ځکه چی مقصود رفع دجهالت ده اودا حاصل سو (١).

<u>درفیقن په ځای درفاقن په نوم نکاح وسوه نوڅه حکم دی؟</u> سوال: (۱۱۷) دیوی انجلی نکاح ددی دپلار پرکور وسوه نکاح خوان دانجلی نوم درفیقن پرځای رفاقن واخیستی او درفاقن په نوم ښځه په دغه کورکی نسته ددی وجه څخه دقاضی په رجسټر کی نوم غلط درج سو نو په دی صورت کی درفیقن نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: په رجسټرکی دنوم دلیکلو څه اعتبار نسته، په رجسټرکی په غلط نوم لیکلو سره په نکاح کی څه فرق نه راځی شرعاً ددی اعتباردی چی نکاح خوان په وخت دعقد دنکاح کی څه نوم اخیستی دی که صحیح نوم یی اخیستی وی نونکاح صحیح کنې صحیح نه ده. کما فی الدر المختار غلط وکیلها بالنکاح فی اسم ابیها بغیر حضورها لم یصح للجهالة وکذا لو غلط فی اسم بنته الا اذا کانت حاضرة اواشار الیها فیصح وفی الشامی وکذا یقال فیما لوغلط فی اسمها (٢) الخ ددی عبارت څخه معلومه سوه چی په غلط نوم

(١). ویذکر اسمها واسم ابیها وجدها ولو کان الشهود یعرفونها وهی غائبة فذکر الزوج اسمها لا غیر وعرف الشهود انه اراد به المرأة التی یعرفونها جاز النکاح (عالمگیری کشوری کتاب النکاح ص۲۷۷ ج۲. ط. ماجدیة ج۱ ص ۲۲۸). قال فی البحر وانکانت غائبة ولم یسمعوا کلامها بان عقد لها وکیلها فان کان الشهود یعرفونها کفی ذکر اسمها اذا عملوا انه اراد (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲). ظفیر

(٢). ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲. دخاکسار مرتب په خیال باندي نکاح وسوه، ځکه چي دقاعدي مطابق دپلار نوم یې اخیستی دی، او رفاقن دیوې بلی انجلۍ نوم نه وو ددې وجي رفیقن ته په رفاقن ویلو سره څه خاص فرق نه راغی ، په تیره بیا چي کله په عواموکي په نومونو اخیستلو کي دا لږ غوندي تغیر او تبدیل په عام ډول سره همیشه موجود وي، بله دا چي شاهدانو او دمجلس غړو ټولو ته دا معلومه وه چي درفاقن څخه مراد همدا رفیقن ده، هغوی ته دا ډیره ښه معلومه وه. لان المقصود نفی الجهالة وذلك حاصل بتعینها عند العاقدین والشهود (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۷ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص۲۲). ظفیر

اخیستو سره مذکوره نکاح ونه سوه یعنی درفیقن نکاح ونه سوه اوکه مخامخ په وخت دنکاح ودې ته اشاره کیده مثلاً داسی چی ددې ښځی سره چی مخامخ ناسته ده ستا نکاح وسوه نونکاح کیږی خوکه منکوحه مخامخ نه وی بلکی په کورکی وی اونوم غلط واخیستل سو نونکاح ونه سوه.

په صورت مسئوله کی نکاح دپلار سره وسوه اوکه دزوی سره؟ سوال: (۱۱۸) دزید نکاح ددری نیمو کالو په عمرکی دمسماة هنده سره چی ددی عمر یوولس کاله وو وسوه چی تقریبا اته کاله وسوه زید ماشوم وو چی دنکاح په وخت مجلس ته راوستل سو نو په ژړا سو قاضی صاحب دده پلار بکر ته وویل: چی ته الفاظ دایجاب اوقبول په خپله ژبه اداء کړه داخو اوس قاعده ده. چی کله بیا زید اوهنده بیا بالغان سی نو ددوی نکاح به هغه وخت وی نوقاضی صاحب دقاعدی مطابق خطبه وویله اوبیایی بکر ته وویل چی مسماة فلانی دفلانی لور په دومره زر مقابل کی ما داستا په عقد دنکاح کی درکړه تا داقبوله کړه؟ بکر ددی په جواب کی صرف دا لفظ ووایه ما قبوله کړه اودری واره یی وویل نوپه دی صورت کی دمسماة هنده نکاح دچا سره وسوه ؟

جواب: په دی صورت کی دفقهاؤ دتصریح مطابق دهندی نکاح دبکر سره وسوه دزید سره ونه سوه قاضی که داویلی وای چی زه دهنده دولی دا ړخه وکیل یم او دهنده نکاح ستا دزوی زید سره کوم اوپه دی بکر ویلی وی چی مادخپل زوی دپاره قبوله کړه نو نکاح به دزیدسره سوی وای په خلاف ددی صورت چی واقع دی په دې کی نکاح دهندی دبکر سره وسوه. قال فی الشامي: ونظير هذا ما في البحر عن الظهيرية لو قال ابو الصغيرة لابي الصغير زوجت ابنتي ولم يزد عليه شيئاً فقال ابو الصغير قبلت يقع النكاح للاب هو الصحيح ويجب ان يحتاط فيه فيقول قبلت لابني آه وقال في الفتح بعد ان ذكر المسئلة بالفارسية يجوز النكاح على الاب وان جرى بينهما مقدمات النكاح للابن هو المختار لان الاب اضافه الى نفسه الخ . (۱) فقط

په فاسد شرط سره هم نکاح کیږی: **سوال**: (۱۱۹) که په یوشرط نکاح وسی نوکیږی اوکه نه؟ **جواب**: په شرط اینبوولو نکاح کیږی او شرط به خطا وی (۲).

که قصداً او عمداً دپلار نوم غلط وښوول سی نونکاح وسوه اوکه نه؟ سوال: (۱۲۰) په وخت دنکاح عمرپه وجه دشرم دحبیبه دپلارنوم چی بکردی ددی په ځای یی زید ووایه اوحبیبه

(۱). ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۸ ج۲ تحت قوله: ولو له بنتان. ط.س. ج۳ ص۲۲. ظفیر

(۲). ولكن لايبطل النكاح بالشرط الفاسد وانما يبطل الشرط (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ص ۴۰۵ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۵۳). ظفیر

په مجلس دنکاح کی موجوده نه وه په شاهدانو کی زیاتو ته علم وو چی منکوحه دزید لور نه ده دبکر لورده اوناکح ته مطلقا علم نه وو نوڅه حکم دی نکاح جائز سوه اوکه نه؟

جواب: چی شاهدانو ته حبیبه مجهوله نه سوه اوعمر سره دعلمه حبیبه دزید لور وښوول قرینه دمجازده ددی وجه څخه نکاح صحیح سوه لکه چی په شامی کی دی د: ولا المنکوحة، په شرح کی دي: فلو زوج بنته منه وله بنتان لا یصح الا اذا کانت احدهما متزوجة فینصرف الی الفارغة الخ وفي معناه ما اذا کانت احداهما محرمة علیه قلت وظاهره انها لوجرت مقدمات الخطبة علی معینة وتمیزت عند الشهود ایضاً یصح العقد وهی واقعة الفتوٰی لان المقصود نفی الجهالة وذلك حاصل بتعینها عند العاقدین والشهود ([1]) الخ . فقط

په نکاح کی دانجلی دپلار نوم غلط سو نو څه حکم دی؟ سوال: (۱۲۱) دهندی دنکاح په وخت کی دولدیت نسبت پلندر ته وسو اوحاضرین دمجلس، نکاح خوان اوناکح هم ددوی په تشخصاتو خبر نه وو، وروسته بیا معلومه سوه چی حقیقی پلار یی دانه وو بلکی بل وو نو په دی صورت کی نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: مسئله داده چی که انجلی مجلس دنکاح ته حاضره نه وه او ددی دپلار نوم غلط واخیستل سو نوبیا نکاح ونه سوه لکه چی په درمختار کی دی: غلط وکیلها بالنکاح فی اسم ابیها بغیر حضورها لم یصح ([2]) الخ. نومناسبه ده چی بیا دوباره په صحیح نوم دپلار سره نکاح وسی.

په نکاح کی که ولدیت غلط وښوول سی نونکاح وسوه اوکه نه؟ سوال: (۱۲۲) دهنده بالغه دطرفه ددی په وجود کی (یعنی هنده دنکاح دمجلس څخه بیله په یوکور کی وه) یو سړی وکیل دنکاح سو چی ده ته ددی دسکه پلار معلومات نه ؤ اوحاضر خلگ هم خبر نه وو چی ددی حقیقی پلار خوك دی ددی پلندر هرچا پیژندی ددی وجه څخه وکیل دنکاح نسبت دولدیت پلندر ته وکړی تر شپږو میاشتو دخاوند سره اوسیدله ددې څخه وروسته راز ښکاره سو چی وکیل دنکاح نسبت دپلار غلط کړیدی په دی صورت کی دهندی نکاح صحیح ده اوکه نه؟ په صورت دعدم جواز دنکاح کی دزنا گناه دچا په غاړه ده؟

جواب: په درمختار کی ددی په باره کی عبارت دادی: غلط وکیلها بالنکاح فی اسم ابیها بغیر حضورها لم یصح للجهالة ([3]) الخ هکذا حققه فی الشامی، ([1]) حاصل داکه

([1]). ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۵. ظفیر
([2]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲. ظفیر
([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲. ظفیر

انجلی حاضره وی اودیته اشاره وسی نو ددی غلطی سره نکاح کیږی اوکه حاضره نه وی نونکاح نه صحیح کیږی اوپه شامی کی داتحقیق هم سویدی چی که شاهدان منکوحه پیژنی نوبغیر دپلار دنوم څخه هم نکاح کیږی خوکه دپلار په ځای دبل چانوم واخیستل سی اوبنت فلان وویل سی نوپه دی صورت کی که څه هم منکوحه پیژنی هم بیا هم نکاح صحیح نه ده (۲) اوکه صورت داسی وی چی انجلی حاضره وی اودیته اشاره وسی او داسی وویل سی ددی ښځی چی فلانۍ دفلانی لور نکاح وکړه. نو دغلطی په صورت کی هم نکاح صحیح ده (۳) که دمنکوحه نوم غلط وی اوکه دپلار یی. فانها لوکانت مشار الیها وغلط فی اسم ابیها اواسمها لایضر. الخ مجتبائی ج۲ ص ۲۵۷. فقط (ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۸ ج۳. ظفیر)

دپیژندګلوی دپاره دانجلی نوم دولدیت کافی دی: سوال: (۱۲۳) دنکاح کولو په وخت دشاهدانو او دحاضرینو په مخکی دښځی دپلار او نیکه نوم اخلی اوکه په نوم اخیستلو سره یې هم تعارف ممکن نه وی نوبیا کم صورت دتعارف دی اوپه عدم تعارف سره نکاح صحیح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دپلار نوم کافی دی پیژندګلوي وسی اوکه نه دانجلی نوم سره دولدیت قائم مقام دپیژندګلوي دی: والحاصل ان الغائبة لابد من ذکر اسمها واسم ابیها وجدها وان کانت معروفة عند الشهود علی قول ابن المفضل وعلی قول غیره یکفي ذکر اسمها ان کانت معروفة عندهم والا فلا وبه جزم صاحب الهدایة الخ لان المقصود من التسمیة التعریف وقد حصل (ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۴ ج۲. ظفیر)

چی دچاخبره سوی وه دنکاح په وخت یی هغه بدله کړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۴) یو سړی دواده پیغام ولیږی اوپه دی کی یی داسی ښکاره کړه چی هلك دمهرپور اوسیدونکی دی دنکاح څخه وروسته ښکاره سوه چی دهرګام اوسیدونکی دی ددې څخه علاوه په تعین دعلم (نوم) کی هم اختلاف دی انجلی داوایي چی زما نکاح دعبد الرحمٰن بن کلوسره سویده اوقاضی هم داوایي. اوشاهدلعل محمد ابن منو وایی اووکیل دلال محمد بن کلو دعویدار دی اوکم هلك چی دواده زلمی سوی وو هغه دهرګام لال

(۱). وګوری شامی الموسوم به ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲. ظفیر

(۲). لان الغائبة یشترط ذکر اسمها واسم ابیها وجدها وتقدم انه اذا عرفها الشهود یکفی ذکر اسمها فقط الخ بخلاف ذکره الاسم منسوبا الی اب اٰخر فان فاطمة بن احمد لا تصدف علی فاطمة محمد تامل (ایضا. ط.س. ج۳ ص ۲۲). ظفیر

(۳). وکذا لو غلط في اسم بنته الا اذا کانت حاضرة او اشار الیها فیصح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲). ظفیر

محمد بن منو وو. په دی صورت کی نکاح دچا سوه. دانجلی وارثانو دعبد الرحمان ابن گلوسره نکاح غوښتل اودده پیغام هم وو، خوهلك والاؤ پرځای دعبدالرحمان دلال محمد بن منو سره نکاح وکړه صبا معلومه سوه چی داعبد الرحمان نه دی. نو دانکاح وسوه اوکه انجلی لعل محمد نه قبلوی اوس چی تفریق وسی نوڅه حکم دی؟

جواب: که دښځی په مخکی دلال محمد بن منو نوم نه وی اخیستل سوی او ایجاب وقبول دده په نوم نه وی سوی نو دانکاح دلال محمد سره نه ده سوی. غرض داچی دچاپه نوم ایجاب او قبول سویدی دهغه سره نکاح سویده. (۱) فقط

شرطی نکاح باطله ده: (۱۲۵) **سوال**: یوسړی دشرطی نکاح ایجاد کړیدی چی دهغه شرطونه دادی: یوسړی په یوکال کی دولس عقده کولی سی. اومهر لس شل روپی ایښوولی سی ښځه هم شرطی نکاح اختیارولی سی چی بی اجازته دخاوند څخه جلا کیدی سی شرطی نکاح دډمو سره جائزده اوکه نه؟ موجب ددی ثبوت ددرمختار او عالمگیری وغیره څخه ورکوی نو دا صحیح ده اوکه غلطه؟

جواب: ددرمختار عبارت دادی: والنکاح لایصح تعلیقه بالشرط کزوجتك ان رضی ابی لم ینعقد الخ شامی ص ۲۹۴ (۲) ترجمه یې داده چی دنکاح ترشرط پوری معلق کول صحیح نه دی لکه چی داسی ووایی زما ستا سره نکاح ده که زما پلار راضی وی نوپه دې سره نکاح نه کیږی. معلومه نه ده چی دمجوز څه منشاده اوپه کم دلیل دی خبره کوی دعبارت ددر مختار څخه دده دقول بطلان ښکاره دی. اونکاح متعه اوموقت هم باطله ده. کما فی الدرالمختار وبطل نکاح متعة وموقت (۳) الخ. اوباطله ده نکاح دمتعی او موقتی. فقط

صرف په اوبو ورکولو باندی دنابالغ نکاح نه کیږی: **سوال**: (۱۲۲) آیا دنابالغ نکاح بغیر دایجاب وقبول ددوی داولیاء څخه صرف په اوبو ورکولو کیږی اوکه نه؟

جواب: صرف په اوبو ورکولو سره نکاح نه سی کیدی البته داکیدی سی چی دنابالغو داړخه ددوی ولی ایجاب او قبول وکړی.

قبول کی وکیل دانجلی نوم بدل کی څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۲۷) دزید نسبت دهنده سره او دهندی دخور نسبت دبکر سره په وخت دنکاح کی موافق دنسبت سره ایجاب وسو

---

(۱). وکله ان یزوجه من قبیلة فزوجه من قبیلة اخری لم یجز کذا فی الخلاصة (عالمگیری کتاب النکاح باب سادس ص۲۳۲ ج۱. ط. ماجدیه ج۱ ص ۲۹۲). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ص۴۰۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۳۳. ظفیر

(۳). الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ص۴۰۳ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۳۱. ظفیر

دایجاب څخه وروسته دقاضی په مخکی چی قبول کیدی نو وکیل خطاء سو اودهندی دخور مریم نوم یی په زید سره اودهندی نوم یی دبکر سره واخیستی دغه وخت یوسړی وویل دنسبت څخه خلاف نومونه دی واخیستل نوپه دوهم وار قاضی موافق دنسبت صحیح قبول وکی په دی صورت کی په مخکی ایجاب قبول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کتاب النکاح کی دی: ولو له بنتان اراد تزویج الکبرٰی فغلط فسماها باسم الصغرٰی صح للصغرٰی، خانیه، په شامی کی ددی په شرح کی داسی دي: ای بان کان اسم الکبرٰی مثلاً عائشة والصغرٰی فاطمة فقال زوجتك بنتی فاطمة وقیل صح العقد علیها (۱) الخ ددی عبارت څخه واضحه ده چی په صورت مسئوله کی اوله نکاح صحیح او دا دوهمه نکاح صحیح نه ده. (۲) فقط

صرف دانجلی نوم یی واخیستی اونکاح وسوه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۸) یوسړی دیوې بالغی انجلی چی غائبه وه دنکاح ایجاب اوقبول په ذریعه دوکیل بالنکاح بغیر دذکر دپلار دمنکوحی غائبه څخه وکی نودا نکاح شرعا منعقده ده اوکه نه؟ اوپه خطبه دنکاح کی درود داسی وویل سو اللهم صلی علی سیدنا وحبیبنا وشفیعنا ومصطفانا ومجتبٰنا السید عبد القادر الجیلانی. نو ددی څه حکم دی؟

جواب: اقول وبالله التوفیق. بی شکه په دی صورت کی په قول دجمهورو فقهاؤ ماسوا دقول دخصاف څخه نکاح صحیح نه ده ځکه چی دغائبی نوم اخیستل بغیر دپلار دنوم څخه دصحت دنکاح دپاره کافی نه دی چی کله دا معروف اومعلوم شاهدانو ته نه وی. قال فی ردالمحتار لان الغائبة یشترط ذکر اسمها واسم ابیها وجدها وتقدم انه اذا عرفها الشهود یکفی ذکر اسمها فقط خلاف لابن الفضل وعند الخصاف یکفی مطلقا. (۳) او دنبی ﷺ څخه علاوه پربل چا مستقل درود ویل جائزنه دی. قال فی الدر المختار: ولا یصلی علی غیر الانبیآء ولا علی الملائکة الا بطریق التبع الخ (۴). فقط

دانجلی نکاح دغلط ولدیت سره وسوه نو صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۱۲۹) یوی ښځی بغیر داجازی دخاوند څخه دخپلی لور نکاح وکړه اوپه وخت دنکاح یی دانجلی دپلار نوم غلط

(۱). ایضاً کتاب النکاح ج۲ ص ۳۷۸ ، ط.س. ج۳. ص ۲۲. ظفیر

(۲). په داجواب کی ځینی غلطی سویده ځکه چی که پلار یې داکار کړی وی نوبیا مخکنی نکاح صحیح وه دلته وکیل وکړل اووکیل ته خلاف دوکالت څخه کول اجازه نسته نو دوهمه نکاح صحیح او مخکنی غلطه ده ، او مخ ته پخپله دمفتی صاحب فتوٰی راروانه ده: ومن امر رجلا ان یزوجه امرأة فزوجه اثنتین فی عقدة لم تلزمه واحد منهما لانه لاوجه الی تنفیذهما للمخالفة (هدایه فصل فی الوکالة ص۳۰۳ ج۳). ظفیر

(۳). ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۸ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۲. ظفیر

(۴). الدر المختار علی هامش ردالمحتار مسائل شتٰی ص۲۵۸ ج۵، ط.س. ج۳ ص۷۵۳. ظفیر

وښووی نوپه داسی صورت کی نکاح جائز سوله اوکه نه؟

جواب: په غلط ولدیت ښوولو سره نکاح نه صحیح کیږی اوکه انجلی مخامخ وی او اشاره دې ته وسی نوبیا نکاح صحیح ده په درمختار کی دی: غلط وکیلها بالنکاح فی اسم ابیها بغیر حضورها لم یصح للجهالة وکذا لو غلط فی اسم بنته الا اذا کانت حاضرة واشار الیها الخ درمختار (۱). فقط

قاضی وکیل په خطاء سره په ایجاب کی دانجلی نوم بدل کی نونکاح څنګه ده؟ سوال:

(۱۳۰۱) دوه هلکان بالغان زید اوعمر ددوو انجونو عائشه اوفاطمه سره داسی منسوب سوه چی دزید نکاح دعائشه سره اودعمر نکاح دفاطمی سره وسوه اونکاح په یوه وخت وه، دعائشه په ایجاب اوقبول کی زید وو خوقاضی صاحب په مجمع عام کی دزید نکاح دفاطمی سره، سره دخطبی وویل او داغلطی دعمر او دعائشی سره په نکاح کولو کی معلومه سوه چی دزید په ایجاب اوقبول کی فاطمه راغلی ده شرعا نکاح مکرر کیدل پکار دی اوکه دزید او دفاطمی عقد مستقل وسو؟

جواب: که څه هم دفقه دکتابونو دظاهرعبارت څخه دامعلومیږی چی دزید نکاح دفاطمی سره چی دهغه نوم په ایجاب اوقبول کی اخستل سویدی منعقده به سی، خوپه دی کی بحث دادی چی کله قاضی ته دمخکی څخه ویل سوی وه، چی دزید نکاح دعائشی سره وکړه اودعمر نکاح دفاطمی سره نوقاضی وکیل سو اووکیل ته اختیارنسته چی دوکالت خلاف وکړی. نوپه دی صورت کی دزید نکاح دفاطمې سره ونه سوه ځکه چی دی دفاطمې دنکاح دزید سره وکیل نه دی نودزید نکاح دعائشې سره دوباره کول پکاردی. البته کله چي قاضی دفاطمې نکاح دزید سره کوله اودافاطمې پخپله یا (په شرط دنابالغ توب) ددی ولی اوریدله اودی چپ پاته سو نو دزید نکاح دفاطمی سره منعقده سوه ځکه چی عبارت ددرمختار دادی: وکذا لوغلط فی اسم بنته الخ ولو له بنتان فسماها باسم الصغریٰ صح للصغریٰ (۲) اوپه شامی کی دی: قوله ولو له بنتان اراد تزویج الکبریٰ بان کان اسم الکبریٰ مثلاً عائشة والصغریٰ فاطمة فقال زوجتك بنتی فاطمة وقیل صح القعد علیها وانکانت عائشة هی المرادة (۳) داعبارت مقتضی ددی دی چی په صورت مسئوله کی دی دزید نکاح دفاطمې سره وسی خوپه دی کی همدا دی چی ددر مختار په صورت کی خپله هم پلارعقددنکاح کړیدی اوپه صورت مسئوله کی قاضی نکاح کړیده چی وکیل

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۲. ظفیر

(۲). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۸ ج۲. ج۳ ص ۲۲. ظفیر

(۳). ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۸ ج۲. ج۳ ص ۲۲. ظفیر

دی او دوکیل خلاف کول معتبر نه دی.

په پیژندګلوي دمشهورو ښځو که دپلار نوم بدل هم سی بیاهم نکاح کیږي: سوال: (۱۳۱۱) دیوی انجلی پلار مړسو ددی مور دخاوند دحقیقی وړور سره نکاح وکړه ددی انجلی نکاح ددی دتره یعنی پلندر په اجازه وسوه په وخت دنکاح پرځای داصلی پلار یې نوم دپلندر واخیستی نوپه دی صورت کی دانکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: ښکاره دا ده چی دا نکاح صحیح ده که څه هم ددر مختار دعبارت څخه داسی معلومیږی چی په دی غلطی سره نکاح نه صحیح کیږی هغه عبارت دادی: غلط وکیلها بالنکاح فی اسم ابیها بغیر حضورها لم یصح للجهالة [1] الخ پردی علامه شامی لیکلی دی چی: قوله لم یصح لان الغائبة یشترط اسمها واسم ابیها وجدها وتقدم انه اذا عرفها الشهود یکفی ذکر اسمها فقط خلافا لابن الفضل وعند الخصاف یکفی مطلقا والظاهر انه فی مسئلتنا لایصح عند الکل لان ذکر الاسم وحده لا یصرفها عن المراد الی غیره بخلاف ذکر الاسم منسوبا الی اب اخر فان فاطمة بنت احمد لا تصدق علی فاطمة بنت محمد تامل وکذا یقال فیما لو غلط في اسمها [2] الخ شامی .

خوجواب ددی دادی چی اول خو ددرمختار ددی قول للجهالة څخه معلومیږی چی دعدم جواز دنکاح په غلطی مذکوره کی علت جهالت دی چی په صورت مسئوله کی مفقود دی، دوهم درمختار مسئله په صورت دغلطی فرض کړی چی وکیل په غلطي سره نوم بدل کړی، اوپه صورتِ مسئوله کي په غلطي سره داسي نه دي سوي بلکه بناء پرمعروف اوشهرة داسی سویده ځکه چی په عرف کی دمور دوهم خاوند ته پلندر ویل کیږی غرض دا چی کم رفع دجهالت دی هغه په دی صورت کی حاصل دی ځکه چی مطلب ددی نسبت دادی چی فلانی انجلی چی دفلانی سړی په تربیت کی ده اوفلانی هلك چی دفلانی په تربیت کی دی ددوی نکاح وسوه بلکی عجیبه نه ده چی سکه پلار ته په نسبت کولو کی به دومره معرفت نه وی چی څومره په دی نسبت کی دی اواصلی مقصود رفع دجهالت ده لکه چی شامی ددرمختار په دی قول:ولا المنکوحة مجهولة، کی لیکی: قلت وظاهره انها لو جرت المقدمات علی معینة وتمیزت عند الشهود ایضا یصح العقد وهی واقعة الفتوی لان المقصود نفی الجهالة وذلك حاصل بتعینها عند العاقدین والشهود وان لم یصرح باسمها کما اذا کانت احداهما متزوجة ویؤیده ما سیأتي من انها لو کانت غائبة وزوجها وکیلها فان عرفها الشهود وعلمه انه ارادهــا کفی ذکر اسمها والا لا بد من ذکر

---

[1]. الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲. ظفیر

[2]. ایضاً ، ط.س. ج۳ ص۱۵. ظفیر

الاب والجد ایضا الخ (١) شامی حاصل داچی په صورة مسئوله کی نکاح منعقده سوه.

په صورت مسئوله کی نکاح صحیح سوه: **سوال**: (۱۳۲) زید دخپلی خور کوثر دبکر دمشر هلك عمرسره نکاح وکړه ددې څخه وروسته بکر دخپل مشر هلك عمرواده بل ځای وکړی اوزید ته ددی علم ونه سو. بیابکر خپل دوهم هلك خالد راوستی چی دعمر څخه کوچنی وو زید ته دنکاح دپاره خوزید ته ددی بالکل علم نه وو چی آیا داهغه هلك عمر دی اوکه بل هلك دی دزید په لاعلمی کی دشپی نکاح وسوه وروسته زید ته ددی علم وسو اوس زید خفه دی آیا په دی صورت کی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کی نکاح دبکر دکشر هلك خالد سره وسوه، ځکه چی دغه هلك مخامخ موجود وو اوزید دده سره دخپلی خور دنکاح اجازه ورکړه اوایجاب اوقبول وسو نودده نکاح وسوه (٢) که څه هم زید دی مشر هلك گڼی اوپه حقیقت کی دی کشر ؤ (٣).

په وعده نکاح نه کیږی: **سوال**: (۱۳۳) یوسړی دخپل زوی دواده دپاره یوسړی ته راغی چی دده لور دشپږو میاشتو وه ددی پلار وویل که دا انجلی ژوندی پاته سوه نوزه به داتاته درکوم ده منظوره کړه. چی کله انجلی داتو یا دنهو کالو سوه نودې خپله اراده ښکاره کړه چی زه دغه کورته بالکل نه ځم خومور اوپلار په زور سره دغه خاوند ته ولیږله اوس انجلی بالغه ده اووایی چی زه دلته بالکل نه اوسیږم او دکوروالی څخه یی هم انکار وکی بیا دا انجلی یوه مسلمان ته ولاړه خونکاح یی ونه کړه بیا دا یوه پنډت ته ورغله اوهندوی سوه ددی دپاره چی نکاح ماته سی، بیایو مولوی صاحب ته ولاړه چی مامسلمانه کړه او دفلانی سړی سره می نکاح وکړه مولوی صاحب نکاح وکړه او یوبل مولوی صاحب یی منع کوی آیا دانجلی په انکار سره نکاح ماته سوه اوکه نه؟

جواب: ددی سوال څخه نکاح په یوه عبارت هم نه معلومیږی ځکه چی په سوال کی دادی چی ددی انجلی پلار وویل چی که دانجلی ژوندی پاته سوه نوزه به یی تاته درکوم او دهلك پلار منظوره کړه نوپه دی سره نکاح نه منعقده کیږی اوکه وروسته ایجاب وقبول دقاعدی دنکاح مطابق سوی وی نوبیا نکاح سویده اودنکاح مسئله داسی ده چی دپلار

---

(١). ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۷ ج۲، ط.س. ج۳ ص۱۵. ظفیر

(٢). وکذا لو غلط فی اسم بنته الا اذا کانت حاضرة او اشار الیها فیصح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲) ددې جزئیې څخه معلومه سوه چې کله هلك موجود وې اوایجاب او قبول وسې نونکاح درسته ده، والله اعلم. ظفیر

(٣). هل اعطیتنیها ان المجلس للنکاح وان للوعد فوعد الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۶۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۲) بیا دلته صیغه داستقبال ده نو ددې څخه معلومیږی چې دامجلس دوعدی وو دنکاح نه وو، والله اعلم. ظفیر

په نکاح ورکول انجلی وروسته دبالغتوب څخه نه سی ختمولی (۱) اوپه کتابونو دفقه کی یی داهم لیکلی دی چی که یوه مسلمانه ښځه ددی وجه څخه مرتده سی چی نکاح ماته سی اودخپل خاوند څخه جلا سی نوددی سزا داده چی دابه په زوره مسلمانه سی او دمخکنی خاوند په نکاح کی به ورکول سی اوپه لږ غوندی مهر سره به تجدید دنکاح وسی داول خاوند سره اوددوهم خاوند سره ددې نکاح به صحیح نه (۲) وی داهلته چی کله مخکنی خاوند ورسره مطالبه دنکاح وکړی خوکه دی نکاح ونه کړی یاخاموشی اختیار کړی نوبیا دی دده سره په نکاح کولو نه مجبوره کوی بلکی دبل چا سره واده کولی سی: اما لو سکت اوترکه صریحًا فانها لاتجبر وتزوج من غیره لانه ترك حقه بحر ونهر (رد المحتار باب النکاح الکافر ص ۵۴۰ ج۲ ظفیر مفتاحی) .

دنکاح په وخت کي دانجلی درد اوبدل کیدو په صورت کی څه حکم دی؟ سوال: (۱۳۴) په یوځای کی دیوسړی کره ددوو انجونو مرکه راغله په یو وخت یوه قاضی ددواړو انجونو وکیل بالنکاح مقرر سو، نوده دمشری انجلی عقد دکشر هلك سره اودکشری انجلی عقد دلوی هلك سره وکړی، رخصت لانه وو سوی چی یوساعت وروسته نکاح خوان دوباره راغی اووی ویل چی مخکنی عقد په غلطی سره دترتیب خلاف سویدی اوس دی بیاعقد وسی نودوباره رد او بدل وسو اوعقد وسو. اوس دکشری انجلی خاوند په رخصتی سره ښځه کورته نه راولی اووایی چی دوهم عقد صحیح نه دی. او دمشری انجلی خاوند چي هغه هم جاهل مطلق دی هغه ناوي یووړله اویو هلك هم ځینی پیدا سویدی. اوس داهلك ولد الحلال دی اوکه نه او دراتلونکی وخت دپاره څه پکاردی؟

جواب: په دی صورت چی څنګه مخکی نکاح سویده یعنی دمشری انجلی دکشر سره او دکشری دمشر سره نوهمدا نکاح صحیح ده (۳) بیاکه رد اوبدل کول وی نودهغه صورت

---

(۱). لو فعل الاب او الجد عند عدم الاب لا یکون للصغیر والصغیرة حق الفسخ بعد البلوغ وان فعل غیرهما فلهما ان یفسخا بعد البلوغ (ردالمحتار باب الولی ص۴۲۰ ج۲. ط.س. ج۱ ص ۲۸). ظفیر

(۲). ولو ارتدت لمجیٔ الفرقة الخ تجبر علی الاسلام وعلی تجدید النکاح زجرا لها بمهر یسیر کدینار وعلیه الفتوٰی (درمختار) رضیت ام لا وتمنع من التزوج بغیره بعد اسلامها ولا یخفی ان محله ما ذا طلب الزوج ذالك (رد المحتار باب النکاح الکافر ص۵۴۰ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۴). ظفیر

(۳). وله بنتان اراد تزویج الکبری فسماها باسم الصغری صح للصغری (درمختار) أي بأن کان اسم الکبری مثلا عائشة والصغری فاطمة. فقال زوجتك بنتي الکبری فاطمة وقیل صح العقد علیها ، وإن کانت عائشة هي المرادة وهذا إذا لم یصفها بالکبری، (ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۷۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۲) په دې عبارت کی تصریح ده چی که پلار یې داسی کړی وی نو دکولو مطابق به وسی خو دلته سوال دادی چی دا رد او بدل قاضی کړیدی چی صرف وکیل ؤ اودی ددې لپاره وکیل جوړ سوی وو چی دمشری دمشر او دکشری دکشر سره نکاح وکړی نوچی کله ده ته احساس وسو نوراغی اووی ویل اوموافق دترتیب یې دوباره وکړل. اووکیل ته درد او =

دادی چی کله دواړه خاوندان بالغان وی اوخلوت اووطی هم نه وی سوی نوهر خاوند به خپلی منکوحی ته طلاق ورکړی اودبلی سره به عقد وکړی، اوکه داسي نه وي نو همداسي دي پريږدي لکه څنګه چي لومړی نکاح سويده، او نکاح ويونکي چي کم يوه ګانټه وروسته رد اوبدل په نکاح کي وکی نوهغه صحيح نه دی اودمشری انجلی خاوند چی ناوي راوړله نودا صحيح نه سوه اودی مرتکب دزنا دی اوپه نسب ثابتيدو اونه ثابتيدو کی اختلاف دی نوده لره پکاردی چی خپله منکوحه جلا کړی اويا دی مخکني منکوحې لره طلاق ورکړی او دهمدی ښځی سره دی دوباره نکاح وکړی. فقط

دمجلس اعتبار: **سوال**: (۱۳۵) فتاوٰی مولانا عبد الحی جلد اول کتاب النکاح ص ۳۰۷ او ۳۰۸ مطبوعه يوسفی پريس فرنګی محل دعبارت داستفتاء څخه معلوميږی چی دمجلس دوجه څخه په نکاح اوپه کوزدې کی فرق نسته او ددرمختار عبارت کم چی تاسی ليکلی دی دهغه توجيه دامعلوميږی چی دوعدی الفاظ وويل سی نووعده اوکه دصريح نکاح الفاظ وويل سی نوپه دی سره نکاح وسوه؟

جواب: داستا دعبارت تاويل ردالمحتار شامی صفا رد کوی. لکه عبارت دشامی دادی: قوله ان المجلس للنكاح الخ ای لانشاء عقده لانه يفهم منه التحقق فی الحال فاذا قال الآخر اعطيتكها اوفعلت فلزم وليس للاولى ان لايقبل (۱) الخ. په دی عبارت کی صفا صيغه دماضی موجوده ده صيغه داستقبال نسته نو معلومه سوه چی په کناياتو کی دمجلس لکه چی اعطيت ودادم وغيره صريح الفاظ دنکاح نه دی په دی کی پرنکاح باندی دحمل دپاره دقرينی ضرورت وی اومولانا عبدالحی صاحب مرحوم دمجلس دذکر په جواب کی نفيا او اثباتا هيڅ هم نه دی ويلی بلکی نور اختلافات يی نقل کړيدی او سوال هم دمجلس دنکاح او دوعدی دفرق نه ؤ، ددی وجه څخه ده دي ته څه تعرض هم ونه کړی اوصاحب ددرمختار صراحة دافرق ثابت کړيدی اوعلامه شامی هم دامحقق ساتلی دی نوحسب قاعدهٔ معروفه چي (الصريح يفوق الدلالة) عبارت ددر مختار اود شامی تحقيق به په دی باره کی لائق دقبول وي اوعرف هم داسی دی.

= بدل اختيار نسته که هغه داسي وکړه نوبيا به نافذ نه وي، نودغه دوهمه نکاح دخاکسار دخيال مطابق، موافق دترتيب سره صحيح ده دفقهاؤ صراحت دی: وكله بان يزوجه فلانة بكذا فزاد الوكيل فی المهر لم ينفذ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۹ ج۲، ط.س. ج۳ ص۲۷) معلومه سوه چي دوکيل خلاف وکالت کول نافذنه دی. نودلته هم مخکی ايجاب وقبول چي کله خلاف دوکالت وو دغه نافذ نه سو اودوهم موافق دوکالت ؤ نو دوهم نافذ سو او ټولو هم ومنی، والله اعلم. ظفير مفتاحي

(۱). ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۴ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۱۲. ظفير

په مجمع کی ایجاب وقبول په لفظ الدر المختار (ناته) [1] **وسو نونکاح وسوه اوکه نه؟ سوال:**
(۱۳۶) خلګ راغونډ سوه اوپه دی کی ایجاب وقبول په لفظ د (ناته) سره وسو نونکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: هل اعطیتنیها ان کان المجلس للنکاح وان للوعد فوعد الخ قوله ان المجلس للنکاح ای لانشاء عقده لانه یفهم منه التحقق في الحال فاذا قال الاخر اعطیتکها اوفعلت لزم ولیس للاول ان لایقبل [2] الخ، حاصل دادی چي په داسی صورت کی دلالت دحال او دمجلس معتبر دی نوکه دغه وخت دخلګو راغونډیدل په غرض دغوښتنی او دکوزدې پخولو وو نوپه مذکوره الفاظو سره کوزده وسوه اونکاح ونه سوه او بیاچی په لفظ د (ناته) سره ایجاب اوقبول وسو نودا قرینه ده چی دغوښتنی دپاره ده نوپه دی صورت کی کوزده وسوه اونکاح ونه سوه .

ولي نکاح خوان ته وویل اجازه می درکړه اوده په هلک باندی قبول وکی نوڅه حکم دی؟

سوال: (۱۳۷) یوسړی میانجی ته وویل ما تاته اجازه درکړیده بیا میانجی سړی ته وایی تافلانی ښځه قبوله کړیده ده وویل ما قبوله کړیده په دی صورت کی نکاح منعقده سوه او که نه؟ دلته په ایجاب وقبول کی صرف یو جزء سته .

جواب: په دی صورت کی نکاح وسوه ځکه چی میانجی وکیل دی دولی دانجلی دطرف څخه نوچی میانجی خاوند ته دا وویل چي تا فلانی ښځه قبوله کړیده نوده په حقیقت کی ایجاب اوقبول وکی اوچی خاوند وویل ما قبوله کړه نودا قبول سو، نو دواړه رکنونه ایجاب وقبول موجود سوه اومطلب دمیان جی دکلام دادی چی ما دفلانی ښځی فلانی لور ستا په نکاح کی درکړه تا داقبوله کړه په دی خاوند وویل ماقبوله کړه نوایجاب او قبول پوره سو په درمختار کی دی: وینعقد ملتبسا من احدهما وقبول من الآخر وضعا للماضي لان الماضي اول علی التحقیق کزوجت نفسي او بنتي او موکلتي منك ویقول الاخر تزوجت الخ درمختار، اوقبلت [3] شامی فقط (خو دابه هلته صحیح وی چی دغه وخت دوه شاهدان وی کنې نوصحیح به نه وی، ظفیر).

دنکاح په مجلس او دکوزدې دمجلس په ایجاب وقبول کی فرق: سوال: (۱۳۸) په یومجلس کی دزید دخاندان یوسړی عمرته وویل چی ته خپله مسماة هنده زید ته ورکوی اوکه نه؟

---

(۱) د (ناته) دلفظ معنی دزیات تفصیل سره په خپله مفتي صاحب په وریسې مخ (۱۰۸) کي دیو سل اوڅلوېښتم (۱۴۰) سوال په جواب کي ذکر کړیده هلته یې وګوره. حقاني
(۲). ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲. ظفیر
(۳). وګوری ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۹. ظفیر

نو عمر ددی په جواب کی وویل ماخپله لور زید ته ورکړیده یایی داوویل ماخپله لور دبکر چی دزید پلار دی مرور کړله. بیا دزید په ولیانو کی یوه وویل: چي ښه ده، یايې وويل چي: هو! نو آیا دجانبینو په دی خبره نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: قال فی الدر المختار وهل اعطیتنیها ان کان المجلس للنکاح ای فنکاح وان کان للوعد فوعد [۱] الخ ددی عبارت څخه معلومه سوه چی که دامجلس دنکاح دپاره منعقد وو او دوه شاهدان دایجاب اوقبول اوریدونکی موجود وه نونکاح به منعقده وی، اوکه دامجلس دکوزدې او دوعدی وو نوپه دی الفاظو سره نکاح نه کیږی بلکه داوعده او کوزده ده.

په کوزدې کی دانجلی هلک ته دورکولو په ویلو سره نکاح نه کیږي: **سوال**: (۱۳۹۱) زموږ په قوم کی دارواج دی چی په وخت دکوزدې انجلی والا هلك والاته وایی چی ماخپله فلانی لور ستا فلانی زوی ته ورکړه هلك والا وایی، ما دخپل زوی دپاره قبوله کړله نوپه دی صورت کی نکاح کیږی اوکه نه؟ بعض خلگ داسی کوزدې وکړی او انجلی ډیره لیری وده وی؟

جواب: دکوزدې په وخت په دی الفاظو نکاح نه کیږی بلکی داوعده دنکاح ده اوپه دی سره کوزده کیږی لکه چی په درمختار کی دی: وان للوعد فوعد.

په (رشته می درکړه) ویلو سره نکاح نه کیږي: **سوال**: (۱۴۰۱) دگل زمان مور مسمٰی سمندر ته وویل چی دخپلی لور رشته زما زوی گل زمان ته ورکړه سمندر ددوو شاهدانو په مخکی په همدغه مجلس کی جواب ورکی چی ما دخپلی مذکوره لور رشته دگل زمان دپاره ورکړله څه موده وروسته سمندر مړسو ددغه انجلی ورور ددی نکاح په بل ځای کی کولی سی اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق. دسوال په مختلفو اړخونو اولفظونو کی دسوچ څخه وروسته معلومیږی چی دسمندر ویل صرف وعده دنکاح ده اوعقد نه دی د (ناته) لفظ په هندوستان (هندوستان دغه وخت ټول ملك ته ویل کیدی) اوپنجاب کی درشتې په معنٰی استعمالیږی لکه په پنجاب کی ناته دار رشته دار ته وایی. بلکی گل زمان په خپل سوال کی قریب په همدی معنٰی کی استعمال کړیدی لفظ دناته لکه چی دی وایی زما مور زما دناته (رشته) دپاره مسمٰی سمندر ته ورغی. ښکاره ده چی په دی عبارت کی رشته معنٰی دناته دنکاح اخیستل نه دی صحیح اودادی هم واضح وی چی مجلس دعقد دنکاح دپاره

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲. ظفیر

منعقد نه وو. بلکې دګل زمان مور دعادت مستمره مطابق دغوښتنې دپاره راغلې وه چې سمندر منظور کړله. چې صرف وعده ده اودګل زمان دمور جواب هم دسمندر ددې جملې په مقابله کې ذکرنه دی. بیا که دا عقد هم وګرځول سی نوددې دپاره به دتاویلات بعیده کولو ضرورت وی. مثلاً که ګل زمان دغه وخت بالغ وو نو دده مور به وکیله یا فضولي وی اوکه نابالغ وو نودولی وکیله یا دده فضولي به وی حالانکې دتوکیل هیڅ ذکر نسته نو داداسې ده لکه چې یوسړی دانجلې پلار ته وویل خپله لوردی زما زوی ته ورکړه اوده وویل چې ما ورکړه نودا نکاح ونه سوه. کما فی الظهیریة لوقال هب ابنتك لابنی فقال وهبت لم یصح ما لم یقل ابو الصبی قبلت (۱) اه وفی الخلاصة لوقال الوکیل بالنکاح هب ابنتك لفلان فقال الاب وهبت لاینعقد النکاح ما لم یقل الوکیل بعده قبلت (۲). ددې څخه علاوه په شامی کې دی: نقلا عن شرح الطحاوی لو قال هل اعطیتنیها فقال اعطیت ان کان المجلس للوعد فوعد وان کان للنکاح فنکاح (۳) اه ددې ځای څخه صفا معلومیږی چې دخبرو دکیفیت رعایت کول ضروری دی نوکه مجلس دوعدې دنکاح وی نوالفاظ محتمله به پروعده محمولیږی، او که مجلس دنکاح وی نوپر نکاح لکه چې تردې عبارت لاندې په شامی کې نقل دی: قال الرحمتی فعلمنا ان العبرة لما یظهر من کلامهما الا لنیتهما الخ (۴) اودا عبارت: اذا قال احدهما ده وقال الآخر دادم او داد یکون نکاح وان لم یقل الآخر پذیرفتم (۵) الخ، دوعدې داعتبار نفی نسته بلکه دفقهاؤ مراد ددې قول څخه دادی چې دا امر دتوکیل دی یادایجاب دی لکه چې په دې کې ډیر اختلاف دی چې ددې ثمره داده چې دمجیب دجواب څخه وروسته دآمر دقبول ضرورت سته اوکه نه؟ نو دفقهاؤ یوه ډله وایی چې دامر څخه بغیر نکاح نه صحیح کیږی. کمامر عن الخلاصه والظهیریه. او بعضې وایی چې بیا دآمر دپذیرفتم ویلو ته ضرورت نسته داعمدة الرعایه هم خوښه کړیده اودهمدې وجه څخه په عمده کې یې ویلې دی: وان لم یقل پذیرفتم (۶) آه وقصر عرفات مافیه. اوددې څخه مراددانه دی چې داعبارت دوعدې نه سی کیدی. نوچې کله په عبارت کې احتمال دوعدې هم سته او دمجلس دپاره دوه امره هم یقینې دی. یو داچې مجلس دوعدې اودخطبې دی دوهم داچې مجلس دخطبې

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲. ظفیر
(۲). ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۱. ظفیر
(۳). ایضاً ص۳۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۱. ظفیر
(۴). و(۵). ایضاً ص۳۲۳. ط.س. ج۳ ص ۱۲. ظفیر
(۶). عمدة الرعایة حاشیه شرح الوقایه کتاب النکاح ص ۷ ج۲. ظفیر

دنکاح او دایجاب وقبول نه دی. نودا الفاظ پروعده حمل کول ډیر اقرب دی، کما فی الدر المختار: هل اعطیتنیها ان کان المجلس للنکاح (ای لانشاء عقده لانه یفهم منه التحقیق فی الحال فاذا قال الآخر اعطیتك اوفعلت لزم الخ وان للوعد فوعد، ([1]). فقط

صرف په وعده نکاح نه کیږی: **سوال**: (۱۴۱\۱) مور اوپلار دخپلی لور په باره کی دا الفاظ ووایی چی که ژوندی پاته سوه نوفلانی ته به یی ورکړو، نویو سړی دا بالغه انجلی وتښتوله اوبل ځای ته یی بوتله اونکاح یی باندی وتړله نونکاح جائزده اوکه نه؟ دانجلی مور اوپلار چی کم الفاظ وویل نو دهغه سره نکاح منعقده سوه اوکه نه؟

جواب: مور اوپلار چی ویلی وه چی که ژوندی پاته سوه نوفلانی ته به یی ورکړو نو دا یوه وعده ده ددی په ویلو نکاح نه کیږی اودا دنکاح ایجاب وقبول نه دی ([2]) نوچی امام کمه نکاح دانجلی بالغی په رضا په کفو کی وکړه، سره ددی داجازی څخه نودا صحیح سوه امام په دی کی ګنهګار نه دی اوپر ده کفاره لازمه نه ده.

یوه وویل انجلی می درکړله اوبل وویل وامی خستله څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۴۲\۱) زید وویل ماخپله کوچنی لور تاته درکړله بکر وویل وامی خیستله دغه وخت نه محفل دواده وو اونه دنکاح بلکی دیو بل غرض دپاره محفل وو نونکاح وسوه اوکه نه؟

داخیستو په قبض ویل: **سوال**: (۱۴۳\۱\۲) اوکه بکر پر ځای داخیستو قبض می کړله وویل اویایی قبول می کړله ووایه نوپه کم صورت کی به نکاح منعقده وی. دبالغی انجلی پلار مړدی اونیکه یی ژوندی دی نونیکه ددی نکاح په بل ځای کی کولی سی اوکه نه؟

جواب: (۱) په دی صورت کی نکاح نه ده منعقده. کمافی الدرالمختار: ان المجلس للنکاح فنکاح وان للوعد فوعد ([3]).

۲. چی کله مجلس دنکاح نه وو نوپه دی الفاظو سره هم نکاح نه کیږی اونیکه ته اختیار دی چی دبل سړی سره یی نکاح وکړی اوکه انجلی بالغه سوی وی نودنکاح دجواز دپاره ددی درضا هم ضرورت دی. کما فی الدر المختار ([4]).

په لاندینی ایجاب اوقبول سره نکاح وسوه اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۴\۱) یوه ښځه مسماة شریفه کونډه عمر یې تقریبا دولس دیارلس کاله دی چی دهغې په باره کی دوو ښځو شهادت

([1]). وګوره الدر المختار کتاب النکاح ص۳۲۴ ج۲ ط.س. ج۳ ص۱۲. ظفیر

([2]). ان المجلس للنکاح وان للوعد فوعد (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲). ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲. ظفیر

([4]). فان استاذنها هو ای الولی وهو السنة (درمختار) ای بان یقول لها قبل النکاح فلان یخطبك اویذکرك فسکت وان زوجها بغیر استمار فقداخطأ السنة وتوقف علی رضاها (ردالمحتار باب الولی ص۴۱۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۸).

ورکړې دی چې یوحیض زموږ په مخکی باندی راغلی دی. دمذکوره شریفي کور ته عبد الرحیم سره دعبدالرحمٰن او ددوو سړیو او ددوو ښځو ورغله اوپوښتنه یې ځینی وکړه چې شریفی ستا دنکاح دپاره څو کسان خواهشمند دی ته کم ځای خوښوی، دی جواب ورکی چې دخپل پخوانی اخښی عبدالرحمٰن سره خوښه یم اودسلو روپو مهر تړم، نوبیا دعبدالرحمٰن څخه پوښتنه وسوه چې تاته دانکاح منظوره ده اوسل روپې مهردرته منظور دی نوهغه جواب ورکی چې ماته نکاح هم اومهرهم منظور دی، خطبه وغیره هیڅ هم ونه سوه، ددې څخه وروسته عبدالرحیم مشهوره کړه چې نکاح وسوه نوآیا شرعا دانکاح وسوه اوکه نه؟ او دشریفی اکا وغیره هم سته او دهغوی څخه یې اجازه نه ده اخیستی نو شرعًا څه حکم دی؟

جواب: دفقهاؤ دتصریح مطابق په دی صورت کی نکاح وسوه، اوچی شریفه بالغه ده نو ددی رضا اواجازه په خپله کافی ده، دتره وغیره داجازې ضرورت نسته (۱).

<u>**مخکی نکاح صحیح ده اوکه دوهمه؟**</u> **سوال**: (۱۴۵) دمدعی دعوه داده چې زما نیکه (دپلار پلار) زما رشته دکرمان دلور مسماة فضل نور سره وکړه زماعمر دغه وخت دولس یا دیارلس کاله وو اوزما دمنکوحی عمر لس یا یوولس کاله وو، ددی پلار دخپلی لور حق دنکاح دجرګی په مخکی زما سره وکړې اوزما نیکه زما دپاره قبوله کړه ددی ایجاب وقبول څخه وروسته زه پنځه کاله په خپل خسرګنی کی اوسیدلم بیازه په نوکری ولاړم او شپږ کاله وروسته راغلم نومعلومه سوه چې زما دمنکوحی نکاح په بل ځای کی سویده. آیا مخکی نکاح چې زما سره سوی وه هغه صحیح ده اوکه نه دادوهمه نکاح؟

جواب: په مخکی کي که صرف وعده دنکاح وه اوایجاب اوقبول په طریقی دنکاح په مجلس دنکاح کی ددوو شاهدانو په مخکی نه وو سوی نوپه دوهم ځای کی نکاح صحیح (۲) ده اوکه په مخکنی باقاعده نکاح سوی وه اوایجاب اوقبول په طریقی دنکاح دشاهدانو په مخکی په مجلس دنکاح کی سوی وروسته، نو دوهمه نکاح بغیر دطلاق ورکولودمخکی خاوندڅخه صحیح نه ده مذکوره ښځه اوس هم داول خاوندمنکوحه ده. (۳)

<u>**دکوزدې څخه وروسته په دوهم ځای کی نکاح کولی سی ؟**</u> **سوال** : (۱۴۶) یو سړی دخپلی

(۱). فنفذنکاح حرة مکلفة بلارضا ولی (درمختار) اراد بالنفاذ الصحة وترتب الاحکام من طلاق وتوارث وغیرهما (ردالمحتار باب الولی ص۴۰۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۵). ظفیر

(۲). هل اعطیتنیها ان المجلس للنکاح وان للوعد فوعد (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۲۴ ج ۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲). ظفیر

(۳). امانکاح منکوحة الغیر... فلم یقل احد بجوازه اصلا (ردالمحتارباب المحرمات ص۴۸۲ ج۴. ط.س. ج۳ ص۱۳۲).

نابالغه لور رشته دزيد سره ښه کلکه کړی وه خو باقاعده نکاح لانه وه سوی چی زيد ته دعمر قيد سزا وسوه. نواوس داسړی دخپلی لور نکاح په بل ځای کی کولی سی اوکه نه؟

جواب: چی نکاح دزيد سره باقاعده نه وی سوی صرف رشته سوی وی نوداسړی دخپلی لور نکاح دبل سړی سره کولی سی (که څه هم وعده خلافي ښه شی نه دی خوچی دانجلی فائده په دی کی ده نو ده لره داجائز دی، ظفير) .

دکوزدې څخه وروسته که ددوهم هلک سره نکاح کوی نوصحيح ده: **سوال**: (۱۴۷۱) اوکه يو سړی دخپلی نابالغی لور کوزده ديوسړی دنابالغه هلك سره وکړه خوڅه موده وروسته دانجلی پلار ددی انجلی کوزده ديوبل هلك سره وکړه نودا نکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: کوزده زموږ په اصطلاح کی وعدي دنکاح ته وايی نوپه دی کوزدې سره نکاح نه منعقده کيږی نوددی وجه څخه دانجلی پلار چی په بل ځای کی ددی نکاح وکړه نودا نکاح وسوه کمافی الدرالمختار (وهل اعطيتنيها ان المجلس للنکاح وان للوعد فوعد (۱) الخ) . فقط

دکوزدې څخه وروسته په دوهم ځای کی واده جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۸۱) ديوسړی دوی لوڼی وی دمشری انجلی واده ديوډاکټر سره وسو اودکشری انجلی کوزده څلور کاله مخکی دعزتمندو خلګو په وجود کی سوی وه ښه سره دپوره رسمونو. اوس دغه مشره انجلی مړه سوه دمور اوډپلار يی خيال دی چی ددی ډاکټر سره کشره انجلی په نکاح سی (دکارډ مضمون دکوزدې په وخت دپاره دشرع شريفی ايجاب اوقبول سويدی چی انجلی ترډيره وخته پوری تسليم کړی وو او دخسرګنی جامی يی هم اغوستلی) نوآيا داشرعًا جائزده اوکه نه؟

جواب: کوزده وغيره دنکاح وعده ده په دی سره نکاح نه منعقده کيږی که څه هم دکوزدې رسمونه پوره سوی وی خووعده خلافی کول بی عذره مذمومه دی خوکه مصلحت دانجلی په بل ځای کی په نکاح کی وی نوپه بل ځای کی دمذکوره انجلی نکاح جائزده، په دی صورت کی دکشری انجلی نکاح دډاکټر سره کول جائزدی اوپه کارډ کی چی کم ايجاب وقبول کيدل ذکردی، په دی کی يی دانه دی ليکلی چی ايجاب وقبول دکوزدې سويدی اوکه دنکاح نوکه دايجاب اوقبول څخه مراد دکوزدې وی نوبياپه دی صورت دکشری انجلی نکاح ددی هلك سره نه ده سوی نودډاکټر سره يی نکاح کيدی سی اوکه

---

(۱). الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب النکاح ص۳۲۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲. ظفير

دايجاب وقبول څخه مراد دنكاح ايجاب وقبول وى نوددى انجلى نكاح ددى هلك سره سويده دډاكټر سره يى بيا نكاح نه سى كيدى. (۱) فقط

وكيل دموكل نكاح كولى سى؟ سوال: (۱۴۹) عمر يوسړى ته وويل زه ځم اوته زما نكاح دفلانى ښځى سره په فلانى مياشت كى وكړه اودوه شاهدان هم موجود وه. نووكيل په مقرره ميعاد كى دمذكوره سړى نكاح دمذكوره ښځى سره په مقرره نيټه كولى سى اوكه نه؟

جواب: هو! كولى يې سى (۲).

دفضولى نكاح به پراجازى موقوفه وى: سوال: (۱۵۰) يوسړى دزيد دلور نكاح بى اجازته ديو غير سړى سره وكړه نودا نكاح صحيح سوه اوكه نه؟

جواب: دغير سره نكاح كول موقوفه دى دپلار پراجازه باندى اوكه انجلى بالغه وى نوپه خپله ددى په اجازه باندى كه دوى اجازه ورنكړه، اوپه دى نكاح يى رضامندى ښكاره نه كړه نودا نكاح باطله ده (۳). فقط

يوسړى دخپل ځان دطرفه اصيل او دښځى دطرفه وكيل سى نونكاح كولى سى اوكه نه؟

سوال: (۱۵۱) زيد دخپل طرف څخه اصيل اودښځى دطرف څخه وكيل سى نوخپله نكاح دخپلى موكلى سره كولى سى اوكه نه؟

جواب: زيد ديوطرف اصيل اودبل طرف څخه وكيل سو نونكاح دخپلى موكلى سره كولى سى ددى صورت دادى چى وكيل يعنى زيد به ددوو شاهدانو په مخكى دا ووايى چى مسماة فلانى ماته دخپلى نكاح اختيار راكړيدى اوزه يى وكيل كړى يم نوتاسى شاهدان سى چى ماخپله نكاح دفلانى سره وكړه نونكاح به صحيح سى. فى الشامى: ولوصرح بالتوكيل وقال وكلتك بان تزوجى نفسك منى فقالت زوجت صح النكاح (۴) وايضا فيه وصورته ان يكتب اليها يخطبها فاذا بلغ ما الكتاب احضرت الشهود وقرآئته عليهم وقالت زوجت نفسى منه (۵) الخ . فقط

په ذريعه دتار په اجازى باندى نكاح: سوال: (۱۵۲) دوه سړى ديوبل سړى مريدان دى په دى

---

(۱). ان المجلس للنكاح وان للوعد فوعد (الدر المختار على هامش رد المحتار كتاب النكاح ص۳۲۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲). ظفير

(۲). يصح التوكل بالنكاح وان لم يحضر الشهود (عالمگيرى مصرى كتاب النكاح باب سادس ص۲۳۱ ج۱. ط. ماجدية ج۱ ص۲۹۴). ظفير

(۳). كل عقد صدر من الفضولى وله قابل الخ انعقد موقوفا (ايضاً ص۲۳۴ ج۱، ط. ماجدية ج۱ ص۲۹۹). ظفير

(۴). ردالمحتار كتاب النكاح ص۳۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۰. ظفير

(۵). ردالمحتار كتاب النكاح ص۳۲۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲. ظفير

دواړو کی یوه دخپلی لور نکاح دبل هلك سره وکړه اوتاریخ دنکاح یی دپیرپه مخکی مقرر کی. یوه ډله پرمقرر وخت راونه رسیده، ده دتار په ذریعه پیر ته اطلاع ورکړه چی زماپه عدم موجودگی دی نکاح وسی نوپه دی صورت کی مرشد نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: پیرپه دی صورت کی نکاح کولی سی اوایجاب وقبول ددغه فریق دطرفه کولی سی چی چا دخط یا دتار په ذریعه اجازه ورکړیده. (۱) فقط

په ایجاب کی وویل سوه فلانی صغیر ته می ورکړه ددی په جواب کی ولی وویل ما قبوله کړه نوځه حکم دی؟ **سوال**: (۱۵۳) دیوی ماشومی ولی اول وویل ما خپله فلانۍ صغیره وفلاني صغیر ته ورکړه ددغه کوچنی ولی چی دخپل ځان دپاره یی قبلول غوښتل کلمه دقبول یې داسی وویله: ما قبوله کړه، نو کلمه دقبول به په دی کلمه دقبول حمل کیږی چی په هغه کی صریح وواییی ما دخپل ځان دپاره قبوله کړه. اوکه په دی کلمه حمل کیږی چی ددی هلك دپاره می قبوله کړه، خوصریح یی ونه ویل بلکی دایی وویل چی قبوله می کړه، نوپه دی صورت کی نکاح دصغیری وسوه اوکه نه؟

جواب: دماشوم دولی قبول به په هغه ایجاب مقید وی چی کم دکوچنی ماشومی ولی کړیدی، نوپه صورت مسئوله کی نکاح دماشوم منعقده سوه. ځکه چی دولی دماشوم دجانبه ایجاب دماشوم دپاره سویدی په دی صورت کی دماشوم دولی داویل چی ماقبوله کړه دایجاب مذکور سره مقید دی اودولی دماشوم داویل چی ما دخپل ځان دپاره قبوله کړه لغوه دی، ځکه چی دی دخپل ځان دپاره قبول نه سی کولی. قال فی الشامی: بخلاف ما لو قال ابو الصغيرة زوجت بنتي من ابنك فقال ابو الابن قبلت ولم يقل لابنی يجوز للابن لاضافة المزوج النكاح الى الابن بيقين وقول القابل قبلت جواب له والجواب يتقيد بالاول فصار كما لو قال قبلت لابني (۲) (اوپه الاشبا والنظائر کی لیکلی دي چي: السوال معاد فی الجواب (۳) ظفير). فقط

دورک سوی دطرفه فضولی قبول وکی نونکاح وسوه اوکه نه؟ **سوال**: (۱۵۴) یوسړی دخپل مفقود الخبر زوی دپاره دیوی نکاح قبولیت وکی او دهلك دورکیدو دوجه دهلك اجازه لانه ده سوی، نوداعقد منعقد سو اوکه دمفقود پراجازه موقوف دی. اوکه پر امضاء

---

(۱). يصح التوكيل بالنكاح وان لم يحضر الشهود كذا فی التتارخانية وعالمگيری كشوری ص۳۰۳ ج۲، ط. ماجدية ج۱ ص ۲۹۷. ظفير

(۲). ردالمحتار كتاب النكاح ص۳۷۸ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۲۲. ظفير مفتاحي

(۳). وگوری الاشباه والنظائر القاعدة الحادية عشر ص۱۷۱ ج۳ ص۹۷. ظفير

دنکاح باندی په مفقودیت دزوی په وجه دعدم قدرت دانکاح باطله سوه؟ که منعقده سویده نوڅه دلیل دی اوکه موقوفه ده نوترکمه به موقوفه وی په شریعت کی ددی څه موده مقرره ده؟ آیا دمفقود دهمزولو ترختمیدو پوری به دانکاح موقوفه وی اوکه ددی څخه به مخکی داتوقف ختمیږی اوکه نکاح باطله ده نوددی څه وجه ده دارکم په دی نکاح کی پلار دمفقود فضولی دی اوکه ولی دی؟

جواب: شرعا مفقود هغه غائب دی چی دهغه دمرګ او دژوند څه پته نه وی. نوچی کله دده حیات معلوم اوثابت نه دی لکه چی دمفقود دتعریف څخه ښکاره سوه نودده دطرفه څخه نکاح به پرقبول موقوفه نه وی بلکه باطله به وی ځکه چی فقهاؤ دنکاح دموقوف کیدو په شرطونوکی لیکلی دی چی په حالت دعقد کی داجازی والا وجود معلوم اوثابت وی اوچی کله دمفقود دوجود علم نسته نوعقد مذکوره باطل سو. قال فی الدرالمختار کنکاح الفضولی الخ ان لها مجیز حالة العقد والا یبطل (۱). فقط ، والله اعلم

<u>په تاریږی خبر ورکی چی زما نکاح دفلانی سره وکړی</u>: **سوال**: (۱۵۵) یوسړی په ذریعه دتار خپل پیرته اطلاع ورکړه چی زما نکاح دی دفلانی ښځی سره وسی په دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: پیر په دی حالت کی نکاح کولی سی اوایجاب اوقبول ددغه فریق څخه کولی سی چی چا په ذریعه دخط یا دتار اجازه ورکړیده.

<u>دڅه مجبوری دوجه څخه بی شاهده نکاح جائزده اوکه نه؟</u> **سوال**: (۱۵۶) هنده کونډه ده اودوهمه نکاح کول غواړی خو درشته دارانو دفساد دوجه څخه چی جاهلان دی علی الاعلان نه سی ویلی فی نفسها اجازه ورکوی په دی صورت کی دهندی نکاح بی وکیله او شاهدانو صرف ددی په اذن کیدی سی؟

جواب: بغیر دشاهدانو نکاح نه کیږی. خوکه هنده په خپله اجازه ورکړی نوددوو شاهدانو په مخکی بی وکیله هم نکاح کولی سی اوکه دهندی په عدم موجودګی کی ددوو شاهدانو په مخکی وسوه اوهندی ته دعلم کیدو څخه وروسته دا اجازه ورکړی نونکاح منعقده اوپوره سوه اوکه دی نکاح خوښه نه کړه نوفاسده سوه، نوکه هنده یوسړی وکیل کړی اودا وکیل ددوو شاهدانو په مخکی ددی نکاح وکړی نوددی نکاح به وسی اوکه دبالغي ښځی بغیر داجازی اووکالت څخه نکاح وسی نودانکاح به دفضولی وی، اونکاح

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الکفاءة مطلب فی الوکیل والفضولی فی النکاح ص۴۴۹ ج۲، قال فی الفتح وهذا یوجب ان یفسر المجیز هنا بمن یقدر علی امضاء العقد لا بالمقابل مطلقا (ردالمحتار ایضا ط.س. ج۳ ص ۹۸). ظفیر

دفضولی پراجازه باندی موقوفه کیږی. کمافی الدرالمختار ونکاح عبد او امة بغیر اذن السید موقوف علی الاجازة کنکاح الفضولی [۱] الخ قال الشامی وانما ینبغی ان یشهد علی الوکالة اذاخیف جحد الموکل ایاها فتح شامی [۲] غرض داچی بغیر ددوو شاهدانو دوجود څخه په ایجاب اوقبول کولو سره نکاح نه منعقده کیږی خو بغیر دوکیل څخه داسی کیدی سی چی دښځی څخه به پخپله اجازه واخیستل سی او ددوو شاهدانو په مخکی چي ایجاب اوقبول وسی نوکه داښځه اوسړی چی نکاح کوونکی دی موجود وی او ددوو شاهدانو په مخکی ایجاب اوقبول وسی نونکاح به صحیح سی. [۳] فقط

بی شاهده په ایجاب وقبول سره نکاح کیږي اوکه نه؟ سوال: (۱۵۷) که یوسړی دکونډې ښځی سره بی حضوره دشاهدانو څخه ایجاب وقبول وکړی اوپه خپل کورکی یی وساتی نو جائزده اوکه نه؟ اوحلاله ده اوکه حرامه؟ اوکه ددوو شاهدانوپه مخکی ایجاب وقبول وکړی بغیر دوجود دملا او دخطبی څخه اوپه کورکی یی وساتی نوپه دی صورت کی جماع ددی ښځی سره حلاله ده اوکه نه؟

جواب: ددوو شاهدانو وجود او دایجاب اوقبول اوریدل دنکاح دپاره ضروری دی ملا او خطبه که نه وی نوخیر دی، اوکه څوك شاهدنه وو نونکاح ناجائز سوه اووطی حرامی دی اوکه دوه شاهدان اوریدونکی دایجاب وقبول موجود وه. نونکاح صحیح اووطی حلالی دی. (قال فی الدرالمختار وشرط حضور شاهدین حرین اوحر وحرتین مکلفین سامعین قولهما معا علی الاصح فاهمین انه نکاح علی المذهب بحر مسلمین لنکاح مسلمة الخ درمختار شامی ص ۳۷۳ ج۲ ظفیر).

په لاندینی صورت کی نکاح وسوه اوکه نه؟ سوال: (۱۵۸) صغریٰ یوه پرچه ولیکله اوزیدته یی ورکړه ددی خبری چی زه اقرار کوم چی زما نکاح دزید سره وسوه تاسی دامنظوروی اوکه نه؟ زیدوویل بسم الله زه به داضرور منظور کړم دجانبینو څخه دری واره ددی خبری اقرار وسو ددي څخه وروسته دصغریٰ ورور صغریٰ یوه چپلاخه ووهله او دصغریٰ په چیغو سره مجمع زیاته سوه، په مجمع کی صغریٰ اقرار وکی چی زما نکاح دزید سره وسوه نوپه دی صورت کی نکاح منعقده سوه اوکه نه؟

جواب:په صورت مسئوله‌کی‌چی‌کمه پرچه صغریٰ‌ولیکله اوزیدته‌یی‌ورکړه اوزید منظوره

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی الوکیل والفضولی ص ۴۴۹ ج۲. ج۳ ص ۹۷. ظفیر

(۲). ردالمحتار باب الکفاءة مطلب فی الوکیل ص ۴۴۲ ج۲. ج۳ ص ۹۵ . ظفیر

(۳). ینعقد بایجاب من احدهما وقبول من الآخر الخ وشرط حضور شاهدین الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۲۱ – ۳۲۳ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۹). ظفیر

کړه نوپه دی سره نکاح نه کیږی ځکه چی دشاهدانو په مخکی نه دارقعه وویل سوه اونه زید قبوله کړه نودا خطا سوه اودصغرٰی اقرار چی دې دپنځه ویشتو یا ددیرشو کسانو په مخکی وکی چی زمانکاح دزیدسره وسوه اوزید دې ته وویل چی بسم الله ماته منظورده، په دی کی روایت ددرمختار دادی چی بعض عالمان وایی، چی که دشاهدانو په مخکی اقرار وسی نودا اقرار به انشاء دنکاح سی اونکاح به سی، عبارت ددرمختار دادی چی: ولا بالاقرار علی المختار الخ لان الاقرار اظهار لما هو ثابت ولیس بانشاء وقیل ان کان بمحضر من الشهود صح کما یصح الجعل وجعل الاقرار انشاءً وهو الاصح ذخیره (۱)، شامی دذخیره عبارت نقل کړیدی، صاحب دفتح القدیر علامه ابن الهمام دا فیصله دقاضی خان په حواله رانقل کړیده چی که اقرار ددوو شاهدانو په مخکی په دی طریقه وسی چی ښځه ووایی چی دازما خاوند دی اوسړی ووایی چی دازما ښځه ده نو نکاح به منعقده سی اوکه اقرار په دی طریقه وسی چی ښځه ووایی چی زما نکاح ددی سړی سره سویده اوسړی هم داسی ووایی نونکاح به نه وی منعقده ځکه چی داخبره کاذبه ده. عبارت دذخیره اوقول دفتح القدیر دادی: وهذا الإقرار بمنزلة انشاء النکاح لانه مقرون بالعوض فهو عبارة عن تملیك مبتدء في الحال فان کان بمحضر من الشهود صح النکاح والا فلانی الاصح انتهٰی (۲) ملخصا وقال فی الفتح قال قاضي خان وینبغي ان یکون الجواب علی التفصیل ان اقر بعقد ماض ولم یکن بینهما عقد لا یکون نکاحا وان اقرالرجل انه زوجها وهي انها زوجته یکون نکاحاً ویتضمن اقرارهما الانشاء بخلاف اقرارهما بماض لانه کذب وهو کما قال ابو حنیفة ﷺ اذا قال لامرءته لست لي امرأة ونوی به الطلاق یقع کانه قال لاني طلقتك ولو قال لم اکن تزوجتها ونوی الطلاق لا یقع لانه کذب محض (۳) الخ نو دمحقق ددی فیصلی مطابق په صورت مسئوله کی نکاح ونه سوه ځکه چی دلته اقرار په صیغه دماضی مذکور دی په دواړو ځایونو کی دصغرٰی دا الفاظ ذکر دي چی زما نکاح دزید سره وسوه.

چي دښځی اودخاوند په مینځ کی لیری والی وی نودخط اوکتاب په ذریعه نکاح کیدی سی؟

سوال: (۱۵۹) یوسړی په لاهورکی دی اوښځه مثلاً په پیښور کی ده نوآیاپه ذریعه دخط ددوی نکاح منعقده کیدی سی اوکه نه؟ چی خط په ذریعه درجسټری یا ددوو پیسو دټکټ په ذریعه باندی یا دچاپه لاس باندی ولیږل سی؟

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۲۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۳. ظفیر
(۲). ایضا. ط.س. ج۳ ص ۱۳. ظفیر
(۳). ایضا ط.س. ج۳. ص ۱۳. ظفیر

جواب: په ذریعه دخط نکاح کیدی سی یوصورت ددی داهم دی چی ښځه یو سړی یا بله ښځه په ذریعه دخط وکیل دخپلی نکاح مقرر کړی نوچی چاته خط لیکل سویدی هغه ددوو شاهدانو په مخکی دامضمون ووایی اودخپل ځان سره یی نکاح وکړی نونکاح به وسی. فی الشامی قوله حاضرين احترز به عن كتابة الغائب لما في البحر عن المحيط الفرق بين الكتاب والخطاب ان في الخطاب لو قال قبلت في مجلس اخر لم يجز وفي الكتاب يجوز ([1]) وفيه ايضا قال في الفتح ومن اشتراط السماع ما قدمناه في التزوج بالكتاب من انه لا بد من سماع الشهود ما في الكتاب المشتمل على الخطبة بان تقرء المرأة عليهم او سماعهم العبارة عنه بان يقول ان فلانا كتب الى يخطبني ثم تشهدهم انها زوجته نفسها الخ لكن اذا كان الكتاب بلفظ الامر بان كتب زوجي نفسك مني لا يشترط سماع الشاهدين لما فيه بناء على ان صيغة الامر توكيل لانه لا يشترط الاشهاد على التوكيل ([2]) الخ نوچی معلومه سوه چی په ذریعه دخط نکاح کیدی سی نوچی خط په هره طریقه ولیږل سی ټول یوشی دی، خوداهم ضروری ده چی خط دهغه وی اودهوکه نه وی.

په نکاح کی دفاسق شاهدی معتبره ده اوکه نه؟ سوال: (۱۲۰) چی کم سړی تارك الصلوٰة وی اودبدو افعالو علانیةً مرتکب وی لکه دشرابو، جواری، زنا او ددروغو شاهدی ورکول دداسی سړی شاهدی دنکاح او دطلاق په معامله کی معتبر ده اوکه نه؟

جواب: دداسی سړی په شاهدی سره نکاح منعقده کیږی خوپه صورت دانکار کی دداسی خلګو په شاهدی نکاح نه ثابتیږی اودطلاقو ثبوت به هم دداسی خلګو په شاهدی نه وی. والله تعالی اعلم کتبه عزیز الرحمٰن.

(وشرط حضور شاهدين حرين الى قوله ولوفاسقين اومحدودين الخ وان لم يثبت (الدر المختار على هامش ردالمحتار، كتاب النكاح ص ۳۷۳ ج۲).

دشاهد په اوریدو سره نکاح کیږی: سوال: (۱۲۱) دیوی انجلی نکاح ددی ولی وکړه او شاهد په دې موقع موجود وو اوتقریبا دپنځوسو کسانو مجمع وه خو دشاهدانو څخه اجازه وانه خیستل سوه. نونکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: که دوو سړیو په دی مجمع کی ایجاب اوقبول اوریدلی وی نونکاح صحیح او منعقده سوه اودشاهدانو څخه داجازی اخیستو ضرورت نسته ([3]).

([1]). ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۴. ظفیر

([2]). ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۳. ظفیر

([3]). وشرط حضور شاهدين حرين مكلفين سامعين قولهما معًا فاهمين مختصرا (الدر المختار على هامش رد =

<u>په ټوقه کی نکاح کیږي</u>: سوال: (۱۲۲) که یوسړی په ټوقه کی دخپلی لور نکاح وکړی نو منعقده کیږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح وسوه. حدیث پاك دی ثلث جدهن جد وهزلهن جد. (۱) یعنی دری شیان دی چی هغه داسی دی چی په ټوقه هم کیږی. چی په دې کی حضور پاك ﷺ نکاح هم شمېرلی ده. اوپه درمختار کتاب النکاح کی دی: ولا یشترط العلم بمعنی الایجاب والقبول فیما یستوی فیه الجد فالهزل اذ لم یحتج لنیة به یفتی. (۲) فقط



دوهم باب

دنکاح متعلق مسائل

<u>چی څوک ایمان مجمل اومفصل نه پیژنی دهغه سره نکاح</u>: سوال: (۱۲۳) هنده چی دصفت داسلام او دایمان څخه بی خبره ده تردی چی کلمه یې هم نه ده زده اوایمان مفصل او مجمل هم نه پیژنی نوددی سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: داسی ناخبره خلګو ته دی صرف داتعلیم ورکول سی چی ووایه الله ﷻ یودی او محمد ﷺ دالله ﷻ رینښتنی پیغمبردی اودی دزړه له کومي رینښتنی وګڼی نوپه دی سره سړی مومن اومسلمان کیږی اوددی اقرار څخه وروسته دده سره نکاح صحیح ده اودا ښکاره ده چی بی دتصدیق دزړه څخه ایمان نسته او دا پوښتنه دي ونه سی چی ایمان څه شی دی اواسلام څه شی دی اوایمان مفصل څه دی؟ اوایمان مجمل څه دی؟ غرض داچی داسی خبری دی وسی چی په دی سره دی مسلمان سی نه داچی داسی تحقیقات وسی چی په هغه سره دی کافرسی.

(په هرحال هنده ځانته مسلمانه وایی نو احتیاطا دی کلمه په وویل سی ددی سره نکاح صحیح ده فرق دتعلیم کموالی دی. ظفیر)

<u>دفاسق ویونکی نکاح صحیح ده</u>: سوال: (۱۲۴) چی سړی چرسی اوبنګی وی تعزیه کوی شیخ سدومنی دهغه نذر خوری صدقه خوری، مړی لمبوی، دروغ اوریښتیا وایی اوپیسه

= المحتار ص ۳۷۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱). ظفیر

(۱). عن ابی هریرة ﷺ ان رسول الله ﷺ قال ثلث جدهن جد وهزلهن جد النکاح والطلاق والرجعة. رواه الترمذي وابوداؤد (مشکوٰة کتاب الطلاق ص۲۸۴). ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار، مجتبائي ص۱۸۲ ج۱ ، ط.س. ج۳ ص۱۲. ظفیر مفتاحي

ګټي، غيبت کوی اوښځی دهوکه کړی اوبل ته يې ورکړی. نو دده وويل سوی نکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: دده ويل سوی نکاح صحيح ده اونکاح کيږی که څه هم داسړی ددې حراموکارونو په کولو فاسق اوعاصی دی. (1) فقط

په يو مجلس کی دځو هلکانو او انجونو دايجاب او قبول دپاره يوه خطبه کافي ده: **سوال**: (۱۲۵) که په يومجلس کی دوه څلور زلمی دواده راجمع سی نوچی صرف يووار خطبه دنکاح وويل سی اودټولو څخه ايجاب او قبول وسی نودا جائزده اوکه نه؟

جواب: صحيح دی. (2)

دبی نمازه نکاح تړل صحيح دي: **سوال**: (۱۲۲) تارك الصلوة که نکاح ووايی نونکاح صحيح ده اوکه نه؟ او داولاد څه حکم دی؟

جواب: دانکاح صحيح ده اوچی کم اولاد ددی دنکاح څخه پيداسی داولد الحلال اوثابت النسب دی. (3) فقط

چی کمه نکاح فاسق وويل نوصحيح ده: **سوال**: (۱۲۷) يو موجوده قاضی چی شراب خور او زناکار او دهر قسم بی احتياطی او ددروغو دشاهدی مرتکب دی هغه ددروغو په نکاحونو اونورو معاملاتو کی يی سزاهم خوړلی ده اوپه ډګريو (وظيفو) کی نيول سوی هم دی او ددی اظهار هم بياپه عدالت کی غلط ثابت سويدی نو دده ويل سوی نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار في کتاب النکاح: ويندب اعلانه وتقديم خطبة وکونه فی مسجد يوم جمعة بعاقد رشيد وشهود عدول الخ وفی الشامی فلا ينبغی ان يعقد مع المرأة بلا احد من عصباتها ولا مع عصبة فاسق ولاعند شهود غير عدول (4) الخ. ددی عبارت څخه واضحه کيږی چی دفاسق ويل سوی نکاح که څه هم منعقده کيږی خوپه ده نکاح تړل ښه نه دی.

---

(1). لکه چی په فاسق پسی لمونځ صحيح دی: صلوا خلف کل بر وفاجر الحديث، داسی دده نکاح ويل هم صحيح دی که څه هم ښه داده چی په يوه نيك عالم سره داکار وسی. چی سبب دبرکت سی، والله اعلم. ظفير مفتاحي

(2). ويندب اعلانه وتقديم خطبة وکونه فی مسجد يوم جمعة بعاقد رشيد وشهود عدول (درمختار) واطلاق الخطبة فافاد انها لاتتعين بالفاظ مخصوصة وان خطب بما ورد فهو احسن (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۹۵ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۸)، کله چي يې يووار خطبه وويل نو هغه دټولو دپاره کافي سوه. ظفير

(3). ددې وجي دده دطرفه ويل سوی نکاح صحيح ده لکه څنګه چي مخکي ذکر سوه ، کله چي يې نکاح صحيح سوه نو اولاد به يې هم ثابت النسب او حلال وي. ظفير

(4). وګوری ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۵۹ - ۳۲۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۸. ظفير

دمازدیګر څخه وروسته نکاح تړل غیر اولی نه دی: **سوال:** (۱۶۸) دمازدیګر او دماښام په مینځ کی نکاح تړل خلاف اولی دی اوکه نه؟

جواب: دمازیګر اودماښام په مینځ کی نکاح کول خلاف اولی یامکروه نه دی لعدم دلیل الکراهة، في الدرالمختار ویندب اعلانه وتقدیم خطبة وکونه فی مسجد یوم جمعة ([1]) الخ یوم جمعة، داقول دخپل اطلاق دوجه څخه تمامي ورځی ته شامل دی چی په دی کی دمازدیګر څخه وروسته وخت هم داخل دی. فقط

دنکاح اعلان کول څنګه دی؟ **سوال:** (۱۶۹) ماقولکم دام فضلکم ورحمکم ربکم په داسی صورت کی چی دښکاره اعلان څخه بغیر دډول څخه که نکاح څه شهرت نه کی پیدا اودا نه شهرت ددی سبب دڅو فسادونو وګرځی. چی رشته داران دمنکوحی چی رضانه دی په دی نکاح باندی چی په عدالت دسرکار کی دعوه دنکاح دباطل والی وکړی او دارکم فسادات په دی وطن کی سویدی نو آیاپه صورت دډول سره په اعلان کولو کی چی سبب دراجمع کیدو دخلګووی چی په دی سره دافسادات کم سی نوکه په دی حالت کی دنکاح اعلان په ډول وسی چی ددی سره خلګ راجمع سی ممنوع دی اوکه نه؟

جواب: اعلان دنکاح مسنون اومستحب دی کما فی الدرالمختار ویندب اعلانه واظهاره والضمیر راجع الی النکاح بمعنٰی العقد لحدیث الترمذی اعلنو هذا النکاح واجعلوه فی المساجد واضربوا علیه بالدفوف([2]) الخ، نومعلومه سوه چی اعلان په تمبل سره په نکاح کی جائز دی. ([3]) فقط

په تمبل سره دنکاح داعلان څه وجه ده او څومره وهل په کاردی؟ **سوال:** (۱۷۰) په حدیث (اعلنوا بالنکاح واضربوا علیه بالدفوف) کي ضمیر راجع دی نکاح ته په معنٰی دعقد سره آیا څو واره وهل دتمبل جائزدی اودکم وخت څخه ترکمه وخته پوری وهل پکار دی یعنی اعلان دعقد په وهلو دډول څو واره یاپه بل شی چی وسی نوپه دوباره وهلو دډول اعلان کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: چی کله په حدیث شریف کی ضرب دفوف علی الاطلاق راغی نوپه قید دوهلو او دزمانی نه سی مقید کیدی چی په څومره باندی اعلان حاصل سی اوچی څومره هم رواج

([1]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۵۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۸. ظفیر

([2]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۵۹ – ۳۲۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۸. ظفیر

([3]). دسوال اوجواب حاصل دادي چي په ذریعه دډول دنکاح اعلان جائز دی لکه څنګه چي په حدیث کي تصریح ده، مګر ددې اعلان په بهانه باندي ډول اوډمامي جوړول هیڅکله جائزنه دی، وفي الذخیرة ضرب الدف في العرس مختلف فیه ومحله ما لاجلاجل اما له جلاجل فمکروه (البحر الرائق کتاب النکاح ص۸۲ ج۲ ط.س. ج۳ ص ۸۰). ظ

وی جائزدی اوکه اعلان په نورو شیانو وسی نوهم کافی دی. اوحاجت دوهلو دډول نسته خو سره ددی چی اعلان حاصل سوی وی په نورو شیانو بیاهم ضرب دفوف ممنوع نه دی لاطلاق الحدیث.

دسهره کنګی وهلو په نکاح کولوکی څه حکم دی؟ سوال: (۱۷۱) دواده زلمی دنکاح کولو په وخت سهره یالنګی ووهله نونکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: داکارونه صحیح نه دی خونکاح کیږی (داکارونه بدعت دی ددې څخه ځان ساتل ضروری دی. ظفیر)

دلیری والی په صورت کي دنکاح دعقد څه صورت دی؟ سوال: (۱۷۲) زما یورشته داردی چی ولایت ته په غرض دتعلیم تللی دی اوزما یورشته دار ته یی پیغام درشتی رالیږلی دی اوس انجلی والا په غرض داطمینان غواړی چی دارشته دعقدپه ذریعه سره مضبوطه سی دولایت څخه دلته په راتللو کی دتعلیم سخت نقصان دی. دتاوان خیال دی انجلی او هلك دواړه بالغ دی آیا په څه صورت سره عقد کیدی سی؟

جواب: ددی صورت دجواز دادی چی دهلك ولي یا بل یو رشته دار یا غیر درشته دي هلك ته ولایت ته ولیکی چي موږ ستا واده دفلانی دلور سره په دی مهر کول غواړو ته خپل اجازت راولیږه نودده داجازې په راتلو باندی چی ده هرچاته اجازه ورکړه دلته دشاهدینو په مخکی دي ایجاب اوقبول باضابطه ددوی دطرفه وسی نونکاح به منعقده سی. [1] فقط

دجنیه (پیری) سره نکاح کول صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۱۷۳) دانسان نکاح دپیری سره صحیح ده اوکه نه؟ او دامام شافعی صاحب په دی صورت کی څه مسلك دی؟

جواب: دانسان مناکحت دپیریانو سره صحیح دی اوکه نه؟ نوپه اشباه کی دسراجیه څخه منقول دی: لاتجوزالمناکحة بین بنی آدم والجن لاختلاف الجنس [2] اوپه زواهر الجواهر کی دی: الاصح لایصح نکاح آدمی جنیة کعکسه لاختلاف الجنس فکانوا کبقیة

---

[1]. یصح التوکیل بالنکاح وان لم یحضر الشهود (عالمگیری مصری ص۲۳۱ ج۱. ط.ماجدیه ج۱ ص۲۹۴) ینعقد النکاح بالکتاب کما ینعقد بالخطاب (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۲). ظفیر

[2]. ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵. ظفیر

الحیوانات ([1]) شامی اوپردی دائمه اربعهؤ دهیڅا هم اختلاف نقل نه دی صرف دحسن بصری څخه په درمختار کی جواز نقل سویدی. ([2])

چی دڅا ښځه جنیه (پیریانی) وی نو دهغې سره کوروالی جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۱۷۴) پر هنده یو پیری راځی اوخاوند دهندی سره ډیر محبت لری آیا په داسی حالت کی چی پر هندی پیری موجودوی اوخاوند دهندی سره کوروالی کوی نو داکور والی به دپیري سره زنا وی اوکه نه؟ اوکه خاوند دهندي دمذکوره پیرۍ سره نکاح وکړی نونکاح به وسی اوکه نه؟

جواب: په مذکوره حالت کی خاوند دهندی سره کوروالی کولی سی اودا کوروالی به دپیری سره زنا نه وی، او دانسان نکاح دپیری سره صحیح نه ده ([3]).

داسی ښځه چی دهغې تیان رالوړ سوی نه وی نکاح یې صحیح ده: سوال: (۱۷۵) خنثٰی ښځه چی دهغې ټول اعضاء پوره دی خو تیان یی را لوړ سوی نه دی نوآیا ددی سره نکاح کیږی اوکه نه؟

جواب: خنثی که مشکل وی نو دده سره نکاح نه سی کیدی اوکه خنثٰی غیر مشکل وو نو که دی سړی وو نو دښځی سره اوکه ښځه وه نودسړی سره دده نکاح صحیح ده. په در مختار کی دی فخرج الذکر والخنثٰی المشکل ([4]) کتاب النکاح.

چی دکمی ښځی په شرم ګاه کی دخول نه سی کیدی نو ددی نکاح کول جائزدی اوکه نه؟

سوال: (۱۷۶) چی دکمی ښځی په رحم کی هډوکی وی او دخول پکښی نه سی کیدی نو ددی په نکاح کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: نکاح کول یی جائز دی. ([5]) فقط

([1]). ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵. ظفیر

([2]). فخرج الذکر والخنثی المشکل الخ والجنیة وإنسان الماء لاختلاف الجنس وأجاز الحسن نکاح الجنیة بشهود (درمختار) اختلاف الجنس لأن قوله تعالی: والله جعل لکم من أنفسکم أزواجا، بین المراد من قوله: فانکحوا ما طاب لکم من النساء، وهو الأنثی من بنات آدم فلا یثبت حل غیرها بلا دلیل ولأن الجن یتشکلون بصور شتی فقد یکون ذکرا تشکل بشکل أنثی الخ قوله اجاز الحسن ای البصري کما في البحر (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵). ظفیر

([3]). الاصح انه لایصح نکاح اٰدمی جنیه کعکسه لاختلاف الجنس کبقیة الحیوانات (ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵). ظفیر

([4]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴ ای ان ایراد العقد علیها لا یفید ملك استمتاع الرجل بهما لعدم محلیتهما له وکذا الخنثی لامرأة ولمثله الخ (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴). ظفیر

([5]) لایتخیر احد الزوجین بعیب الاخر ولوفاحشاً کجنون وجذام وبرص ورتق وقرن (درمختار)قوله: رتق =

چې کمه ښځه دسړي قابله نه وي دهغې سره نکاح صحيح ده: سوال:(۱۷۷) که دانجلی مور اوپلار يوه داسی ښځه چې دسړي قابله نه ده اونکاح ديوه سړی سره په پوهه پاپه ناپوهتيا سره وکړه نودانکاح جائز سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح صحيح سوه. ([1]) کذا في الدر المختار. فقط

دخنثٰی سړي سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۱۷۸) يوه ښځه چې دهغې دواده پنځلس کاله وسوه داپنځه کاله دخاوند په کور اوبيا دمور اودپلار کورته راغله اوبيا دخاوند کورته نه ده تللی ښځه خاوند يادوي چې خنثٰی دی اوديوبل سړی سره يې تعلق دی اودده ځخه يې دوه بچې هم سوی دی خاوند طلاق نه ورکوی که دی واقعی خنثٰی وی نودښځی نکاح دده سره صحيح ده اوکه نه؟ دده ځخه دطلاق اخيستو ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: خاوند که عنين وی نونکاح کيږی اوبيا دقاعدی مطابق تاجيل اوتفريق دقاضی په ذريعه کيږی اودښځي په دعوه خاوند ته مهلت ديوکال دعلاج دپاره ورکول کيږی بيا که ځه نفع ونه سی نوښځه دی دوباره دعوه وکړی اوقاضی به تفريق وکړی اوبغير دتفريق ځخه نکاح نه فسخ کيږی ([2]) اوکه خاوند خنثٰی مشکل وی نو دده نکاح به موقوفه وی تردی چې دده حال ښکاره سی، بياکه ظاهر سو چې دی سړی دی نودده نکاح صحيح کيږی يعنی چې کله ښځه دده سره نکاح وکړی لکه چې په دی صورت کی دی اوکه ښکاره سوه چې ښځه ده نونکاح باطليږی ترهغه وخته چې دده حال ښکاره سوی نه وی نونکاح به موقوفه وی، لکه چې په درمختار کی دی: فخرج الذکر والخنثٰی المشکل الخ اوپه شامی کی دی وکذا علی الخنثٰی لامرأة او لمثله ففی البحر عن الزيلعی لو زوجه ابوه او مولاه امرأة ([3]) اورجلا لايحکم بصحة حتٰی يتبين حاله انه رجل او امرأة الخ وفی باب المهر منه اما المشکل فنکاحه موقوف الی ان يتبين حاله الخ شامی ([4]). فقط

= بالتحريك انسداد مدخل الذكر قوله: قرن كفلس لحم ينبت في مدخل الذكر كالغدة وقد يكون عظما (ردالمحتار باب العنين وغيره ص۸۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۵۰۱) معلومه سوه چې داښځه ده اوددی سره نکاح صحيح ده. ظفير

([1]). هو ای النكاح عند الفقهاء عقد يفيد ملك المتعة أي حل استمتاع الرجل من امرأة لم يمنع من نكاحها مانع شرعي (درمختار) قوله: من امرأة الخ المراد بها المحققة انوثها (ردالمحتار كتاب النكاح ص ۳۵۵ - ۳۵۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص۴). ظفير

([2]). وإذا كان الزوج عنينا أجله الحاكم سنة فإن وصل إليها فبها وإلا فرق بينهما إذا طلبت المرأة ذلك (هدايه باب العنين وغيره ص۴۰۰ ج۲). ظفير

([3]). ردالمحتار باب المهر ص ۳۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴. ظفير

([4]). ردالمحتار باب المهر ص ۴۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۱۷. ظفير

دخنثی مشکل سره نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۱۷۹) دیوی ښځی مسماة عزت بي بي یوه ځوانه لورده چي په عقل کی یی نقصان اولیون حاله ده اوهمیشه دلیونو خبری کوی ددې څخه علاوه په شان دنورو ښځو هم نه ده الله ﷻ په خپل قدرت سره ددی دمتیازو دضرورت پوره کولو دپاره پرځای دمتیازو یوه لاره په شان دیو سوری پیدا کړیده دسړی دتعلق دپاره بالکل هیڅ علامه دښځوددی سره نسته مسماة عزت بي بي چی ددی انجلی مور ده داراز یې پټ وساتی اودیو سړي محمد صالح سره یې په نکاح کړه او مهر یې ورڅخه یوسل او پینځه ویشت روپی واخیستی نودداسی ښځی نکاح شرعًا کیدی سی اوچی څومره فرائض دمهر وغیره په عمل کی راغلی دی هغه ترکمه دمنلو قابل دی؟

جواب: که داخنثی مشکل چی ښځه اوسړی کیدل یی هیڅ هم محقق نه وی اوعلامات یی دیوبل سره معارض وی اویاڅه علامه دښځی اودسړی پکښی نسته نونکاح ددی باطله ده منعقده نه سوه اومهر وغیره دی واپس سی. کمافی الدرالمختار کتاب النکاح: هو عقد یفید ملك المتعة الخ من امرأة لم یمنع من نکاحها مانع شرعی فخرج الذکر والخنثی المشکل (۱) اوکه په حقیقت کی داښځه وی اوعلامات دښځی په دی کی موجودی وی خوپه وجه دتنګوالی دسوری ددی سره کوروالی نسی کیدی نوبیا خونکاح منعقده سوه (۲) خوسړی ته اختیاردی چی دې ته دی په وجه دنه وطی کیدوطلاق ورکړی او دطلاق قبل الدخول وخلوة صحیحه نیم مهر دخاوند پرذمه لازم دی. کمافی الدر المختار (۳).

دمخنث قسمونه اوچی دده واده کیدی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۸۰) دمخنث څو قسمونه دی اودده واده دچاسره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دخنثی دوه شکله دی یومشکل دی اوبل غیر مشکل. دغیر مشکل حکم ښکاره

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۵۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۰۳. ظفیر

(۲). ولا یتخیر احد الزوجین بعیب الاخر ولو فاحشا کجنون وجذام وبرص ورتق (درمختار) قوله رتق انسداد مدخل الذکر وقوله قرن لحم ینبت فی مدخل الذکر کالغدة وقدیکون عظما (ردالمحتار باب العنین وغیره ص ۸۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۵۰۱) والخلوة بلا مانع حسي وطبعي وشرطي ومن الحسي رتق التلاحم وقرن بالسكون عظم وعقل بفتحتين غدة قوله عظم في البحر عن المغرب القرن في الفرج مانع يمنع من سلوك الذكر فيه إما غُدة غليظة أو لحم أو عظم وامرأة رتقاء بها ذلك وقوله غدة بالغين المعجمة أي في خارج الفرج الخ (ردالمحتار باب المهر ص۴۲۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۱۴) ددی تول بحث څخه معلومه سوه چی ددغه رکم ښځی سره نکاح جائز ده اودا حکما ښځه ده، والله اعلم). ظفیر مفتاحي

(۳). ویجب نصفه بطلاق قبل وطؤ اوخلوة (درمختار) قوله نصفه ای نصف المهر المذکور (ردالمحتار باب المهر ص۴۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۰۴). ظفیر

دی ځکه چې کله متعین سو چې یا سړی دی او یا ښځه او داشکال اشتباه ختمه سوه نو ددی مطابق دی حکم وسی. که سړی وی نودسړو حکم به باندی وسی اوکه ښځه وی نو دښځی حکم باندی وسی. اوخنثٰی مشکل (چې نه ښځه وی اونه سړی) دهغه حکم دادی چې دی دچا سره نکاح نه سی کولی نه دسړی سره اونه دښځی سره. په درمختار کتاب النکاح کی دی: فخرج الذکر وخنثٰی المشکل لجواز ذکورته الخ . (۱)

په باجا وغیره سره په نکاح کی فساد راځی اوکه نه؟ سوال: (۱۸۱) چې په کمه نکاح کی باجه وغیره وی نو دانکاح کیږی اوکه نه؟

جواب: نکاح کیږی (خو باجه وغیره وهل ګناه ده اودغیر مسلمو رسم دی ددې څخه ځان ساتل پکاردی. ظفیر) .

چې دکلمې څخه بی خبره وی نو دده نکاح باقی پاته کیږی اوکه فاسدیږی؟ سوال: (۱۸۲) چې یوسړی ته صفت دایمان اوکلمه معلومه نه وی اوخپله منکوحه بی آباده وساتی او دشریعت خلاف کارونه کوی نودداسی سړی نکاح ثابته پاته کیږی اوکه نه؟ که فاسدیږی نوپه دی ښځی څه عده سته؟

جواب: نکاح دده شرعًا ثابته اوقائمه ده اوفاسده نه ده بی له طلاقه اوعدی دتیریدو څخه نو داښځه دده دنکاح څخه نه بهر کیږی (ترڅو چې حکمًا مسلمان وی نونکاح باقي ده خو دښځی حقوق نه اداکول یادشریعت څخه خلاف کارکول ګناه ده ددی څخه توبه کول ضروری دی دښځی آبادول هم ضروری دی او ددی سره سره کلمه اونور ضروري احکام داسلام ازده کول هم. ظفیر)

په ذیقعده کی نکاح کول جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۱۸۳) زید دخپلی لور نکاح دبکر سره په ذیقعده کی کول غواړی او خلګ وایی چې ددوو اخترونو په مینځ کی نکاح کول حرامه ده، آیا دا صحیح ده؟

جواب: دذیقعدی په میاشت کی نکاح کول صحیح دی اودمنع کوونکو خبره بی اصله ده او شرعًا ددی هیڅ اصل نسته.

نکاح دورځی ښهٔ ده اوکه دشپې؟ سوال: (۱۸۴) نکاح کول دورځی ښه ده اوکه دشپې؟

جواب: په درمختار کی دی: ویندب اعلانه وتقدیم خطبة وکونه فی مسجد یوم جمعة (۲) الخ نومعلومه سوه چې په جمعه کی کول دنکاح مستحب دي (او دجمعې ورځ دنورو ورځو څخه ښه ده).

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۵۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۵. ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۵۹ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۸. ظفیر

که دښار دقاضی څخه بغیر بل څوک نکاح ووایی (وتړی) جائز ده: سوال: (۱۸۵) که دښار دقاضی څخه علاوه بل سړی دنکاح خطبه ووایی اووی تړی اودغه نکاح دقاضی په رجسټر کی درج نه وی نودغه نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دښار دقاضی څخه علاوه چی بل څوك په رضا دجانبینو نکاح وتړی اوخطبه ووایی نوصحیح ده اونکاح منعقده کیږی.

دناسنته نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۱۸۶) اوریدلی مودی چی که دناسنته هلك نکاح وسی نونکاح نه صحیح کیږی. نودا خبره صحیح ده اوکه غلطه؟

جواب: داغلطه ده چی دناسنته نکاح نه صحیح کیږی اودا دجاهلانو خبری دی اودناسنته نکاح صحیح ده. کما هو مقتضٰی اطلاق النصوص. قال فی الدر المختار: وللولی الآتی ببیانه نکاح الصغیر والصغیرة جبر ولو ثیبا [1] الخ . فقط

دبدعتی سره نکاح کول صحیح دی خومناسب نه دي: سوال: (۱۸۷) داحمد رضاخان بریلوی دیومعتقد سره دیواهل سنت حنفی دخپلی لور نکاح کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: نکاح به وسی ولي چی آخر هغه هم مسلمان دی که څه هم بدعتی دی. خو دداسی خلګو سره رشته دمناکحت صحیح نه دی (یعنی مناسب نه دی) په حدیث شریف کی دي: ولا تجالسوهم ولا تناکحوهم [2] الحدیث، ترجمه: ددوی سره مه کښینئ اومه ورسره نکاح کوئ.

په نکاح کی داعلان دپاره باجه وهل څنګه دی؟ سوال: (۱۸۸) داعلان دپاره په نکاح کی باجه وهل جائزدی اوکه نه؟

جواب: دنکاح داعلان دپاره تمبل وهل جائزدی باقی نوری باجی ټولی حرامی دی. [3]

تمبل ترڅومره پوری جائزدي: سوال: (۱۸۹) په نکاح کی تمبل وهل ترڅومره وخته پوری جائزدی؟

جواب: تمبل وهل په قصد داعلان دنکاح جائز سویدی چی څومره ضرورت داعلان دی همدومر مباح دی (باقی دابهانه کول اودسهار څخه تر ماښامه ډول وهل دابیا داعلان په ځای دباجی حکم اخلی. ظفیر)

دتمبل اجازه سته خو داویل چی بی باجی نکاح حرامه ده بد دینی ده اودکفر بیره ده: سوال:

---

(۱). ایضاً. باب الولی ص۴۱۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۶۵. ظفیر مفتاحي

(۲). ویندب اعلانه ای اظهاره والضمیر راجع الی النکاح بمعنٰی العقد لحدیث الترمذی اعلنوا هذا النکاح واجعلوه فی المساجد واضربوه علیه بالدفوف (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۵۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۸). ظفیر

(۳). هذا اذالم یکن له جلاجل ولم یضرعلی هیئة التطرب (ایضا کتاب الحظرص۳۰۷ ج۵، ط.س. ج۳ ص ۳۵۰).

(۱۹۰۱) دتقویة الایمان په حاشیه کی لیکلی دی چی دتبوك دجنگ څخه وروسته تمبل منع سویدی اوچی کم سړی داوایی چی په کمه نکاح کی باجه نه وی نوهغه حرامه ده نو ددی سړی څه حکم دی؟

جواب: احنافو فقهاؤ ددف اجازه په نکاح کی ورکړیده: ویندب اعلانه ای اظهاره الضمیر راجع الی النکاح بمعنٰی العقد ([1]) لحدیث اعلنوا هذا النکاح واجعلوه فی المساجد واضربوا علیه بالدفوف ([2]) اوچی څوك داوایی چی په کمه نکاح کی باجه نه وی هغه حرامه ده نودا سړی فاسق دی اودده دکفر بیره ده. اوتوبه دی وکاږی.

بی خطبی نکاح کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۹۱۱) بی خطبی نکاح صحیح ده اوکه نه ؟

جواب: که خطبه نه وی نونکاح کیږی. ارکان دنکاح ایجاب اوقبول دی خطبه شرط نه ده بلکه سنت ده ([3]). فقط (یعني بغیر دخطبې څخه نکاح جائز ده).

دکوزدې څخه وروسته چی یی څه درکړی وی نو دنه نکاح کیدو په صورت کی هغه واپس اخیستی سی: **سوال**: (۱۹۱۲) چی کم ځای کوزده سوی وه هلته نکاح ونه سوه نوانجلی ته یې چی څه ورکړی وی هغه بیرته اخیستی سی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار خطب بنت رجل وبعث الیها اشیاء ولم یزوجها ابوها الخ یسترد عینه قائما الخ وکذا یسترد ما بعث هدیة قائم دون الهالك والمستهلك ([4]) الخ معلومه سوه چی دنکاح کیدو په صورت کی چی څه یی ورکړی وی ددی نکاح په وجه اوکله چې هغه موجود وی نو اخیستی یې سی.

چی کم سړی دلیری ځای څخه دمجبوری دوجه نسی راتلی نو دهغه واده به څنګه کیږی؟

سوال: (۱۹۱۳) یوسړی دخپل وطن څخه لیری اوسیږی چی سرکاری ملازمت یی دی، او دده دواده ورځ رانژدی ده خو چهتی یی نه منظوریږی نوپه ذریعه دخط دده واده کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دلیری ځای څخه په ذریعه دخط اوکتابت سره هم نکاح کیدی سی ([5]) ددی صورت دادی چی کم سړی دنکاح اراده لری دخپل طرف څخه دی څوك وکیل کړی چی زما نکاح

([1]). ردالمحتار کتاب النکاح ص ۲۵۹ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۸. ظفیر
([2]). وګوره مشکوة باب اعلان النکاح ص ۲۷۲. ظفیر
([3]). ویندب اعلانه وتقدیم خطبة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۵۹ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۸) ددې سوال اوجواب حاصل دادي چي که چیري یوڅوك خطبه ونه وایي او ایجاب اوقبول دشاهدانو په مخکي وسي نوبیابه هم نکاح صحیح سي، ځکه چي خطبه دنکاح رکن یاشرط نه ده چي پردې پانديې نکاح موقوفه سي. ظ
([4]). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ص۵۰۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۵۳. ظفیر
([5]). قال ینعقد النکاح بالکتاب کماینعقد بالخطاب وصورته ان یکتب الیها یخطبها فاذا بلغها الکتاب =

دفلانی انجلی سره وکړه، داوکیل به دښځی په مخکی یا ددی وکیل ته ددوو شاهدانو په مخامخ کي ووایی چی ما دفلانی سړی نکاح دفلانی ښځی سره په قدر ددومره مهر وکړه. اوښځه یا ددی وکیل دی قبوله کړی. اوکه دښځی دطرف څخه ایجاب وی نوبیا دی دسړی وکیل قبول کړی داصورت هم دجواز دنکاح دی. (۱)

مینځه چاته وایی اووددی سره بی نکاح وطی جائز دي اوکه نه؟ سوال: (۱۹۴) مینځه چاته وایی؟ دمینځی سره بی نکاح وطی جائز دی اوکه نه؟

جواب: مینځه مملوکی ته وایی. دلته (په هندوستان کی) نسته. (۲) (چی کم ځای شرعی مینځه وی نوهلته دمینځی سره بی نکاح وطی جائز دی. ظفیر)

پرښځه اطاعت ضروری دی: سوال: (۱۹۵) دزید منکوحه دزید سره اوسیدل نه غواړی او زید هنده پریښودل نه غواړی نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: پرهنده واجب دی چی دزید سره واوسیږی او دده اطاعت وکړی (۳) بغیر دزید دطلاق ورکولو څخه یا دخلع کولو څخه دزید څخه دجلا کیدو بل صورت نسته (۴).

دکوزدې وروسته دهلک صحت خراب سو نو په بل ځای کی انجلی لره واده جائزدی اوکه نه؟

سوال: (۱۹۶) څه فرمایی علماء دین په داسی صورت کی چی زید دخپلی لور کوزده دعمر دزوی سره په کوچنی والی کی کړی وه موافق درسم او رواج دهلك دطرفه څه زیورات او کپړی ورکول وی. آخر دالله ﷻ په حکم ددغه هلك دوه دری کاله یاددې څخه زیات وروسته په پښه کی مرض ولګیدی چی دهغه دوجه دی ګوډ سو او اوس دلګړي حاجتمند دی اوبغیر ددی څخه نه سی ګرځیدی، نوبیا دانجلی پلار سوچ وکی چی په دی حالت کی داهلك دنان اونفقی ورکولو څخه بالکل معذوره دی اوبی له خرچی تعلق ساتل هم مشکل دی، ددی وجه څخه زید هغه زیورات وغیره چی په کوزدې کی ورکول سوی وه ورواپس کړل او انکار یی وکی چی زه ددی هلك سره دخپلی لور نکاح نه سم کولی او انجلی هم راضی نه ده نواوس ددی کوزدې او دزیوراتو وغیره شریعت څه حکم ورکوی؟

= احضرت الشهود وقرآئته علیهم الخ (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۲). ظفیر

(۱). وإذا أذنت المرأة للرجل أن یزوجها من نفسه فعقد بحضرة شاهدین جاز الخ لنا أن الوكيل في النكاح معبر وسفير والتمانع في الحقوق دون التعبير ولاترجع الحقوق إليه (هدایه فصل في الوكالة بالنكاح ص۳۰۲ ج۲). ظ

(۲). وله التسري بما شاء من الاماء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المحرمات ص۴۰۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص۴۸). ظفیر

(۳). دباری تعالی ارشاد دی: الرجال قوامون علی النساء (سورة النساء). ظفیر

(۴). اما نکاح منکوحة الغیر معتدته الخ فلم یقل احد بجوازه (ردالمحتار باب العدة ص۸۳۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۱۲). ظفیر

اوکه زید دخپلی لور نکاح ددی هلك سره نه کوی په بل ځای کی یی کوزده کوی اوپه نکاح یی ورکوی نوشریعت ددی اجازه ورکوی اوکه نه؟

جواب: شرعا دانجلی ولی لره ضروری دی چی دخپلی لور دمصلحت خیال وساتی او دداسی سړی سره یی په نکاح کړی چی هرقسم ددی هم څنګه (داوړې برابر) وی او دناموافقت بیره یې نه وی. نو په مسئوله صورت کی چی دکم هلك سره کوزده سوی وه معذوره سو اودنان اونفقی څخه عاجزه سو نونکاح دلور دده سره نه دی کول پکار دبل سړی سره یې کول پکاردی چی دانجلی هم څنګه وی. په شامی کی دی: ولا یزوج ابنته الشابة شیخا کبیرا ولا رجلا دمیما ویزوجها کفو (۱) الخ، نژدي په دی حالت کی ددی معذوره سره چی ورسره کوزده سوی وه نکاح دی ونه کړی اودیو بل عمده ځای خیال دی وکړی بلکه ددی معذور سره به په نکاح کولوکی ګناهګار وی. والله اعلم کتبه عزیز الرحمٰن عفی عنه مفتی مدرسه عربیه دیوبند.

الجواب صحیح، بنده محمود عفی عنه (شیخ الهند وصدر المدرسین دارالعلوم دیوبند)

الجواب صحیح، احقر ګل محمد عفی عنه.

درتقاء (بی رَحمه) ښځی سره نکاح جائزده: **سوال**: (۱۹۷) دیوی ښځی دیوسړی سره نکاح وسوه دڅو ورځو څخه وروسته یی دی ته طلاق ورکړی او بیایی دبل سړی سره نکاح وسوه نودغه وخت داخبره معلومه سوه چی مدخل دذکر بند دی اووطی کول ددی سره بالکل محال دی اودا وایی چی زما سړی ته خواهش بالکل نه کیږی صرف دامی زړه غواړی چی سړی راته مخامخ ناست وی غرض داچي دا ښځه پر منزله دسړی ده اوس دا دوهم سړی یی هم پرینښوول غواړی نوپه دی کی داپوښتنه کوو چی دداسی ښځی سره نکاح جائزده اوکه نه؟ او دپرینښیدو څخه وروسته دا دمهر مستحق ده اوکه نه؟ اودنکاح په وخت څه دمهر تفصیل هم نه دی سوی چی معجل څومره دی اوموجل څومره دی څو صرف مقدار معین سویدی نوپه داسی صورت کی دا دمهر دعوه کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح منعقده سوه او وروسته ددخول څخه مهر پوره واجب دی اومهر که څه هم معجل نه وی نو دطلاق سره معجل کیږی یعنی دطلاق څخه وروسته فوراً مطالبه دمهر کولی سی: ولا یخیر احد الزوجین بعیب الآخر ولو فاحشا کجنون وجذام وبرص ورتق وقرن (درمختار) (۲) قوله ورتق بالتحریك انسداد مدخل الذکر (۳)

(۱). ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۹. ظفیر

(۲). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره ص۸۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۰۱. ظفیر

(۳). ردالمحتار کتاب العنین وغیره ص۸۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۰۱. ظفیر

شامی ویتأکد عند وطی اوخلوة صحت من الزوج درمختار وفی الخلاصة وبالطلاق یتعجل الموجل، شامی ص **۳۵۹** باب المهر. فقط
نکاح تړول ویلای سی: **سوال**: (۱\۱۱۹۸) دمجستریټ داویل چی نکاح ویل دهر خاص اوعام کار دی او دقاضی څه ضرورت نسته. صحیح دی اوکه نه؟
دښار دقاضی په وجودکی فقیر نکاح ویلای سی: **سوال**: (۲\۱۱۹۹) دښار دقاضی په وجود کی بی داجازی دقاضی څخه فقیر چی وکالت کوی نونکاح ویلی سی اوکه نه؟
نکاح خوانی دیوخاندان سره مخصوص نه ده: **سوال**: (۳\۱۲۰۰) چی یوقاضی دډیری مودی څخه پرنکاح خوانی قابض وی اودده سره سند ددی مضمون وی چی پرقضاء به ددوی خاندان وی. اویا خو یی دپلار او دنیکه څخه قبضه راروانه وی نودا قابل لحاظ ده او که نه؟ **جواب**: ۱. صحیح دی. (۲). صحیح دی.
(**۳**). نکاح خوانی دیو خاندان دیوخاص سړی شرعی حق نه دی. چی په چایی هم نکاح وکړه منعقده کیږی، انتظامی فیصله جلاده چی حاکمان څنګه مصلحت وګنی هغه رکم انتظام دی وکړی.
نکاح خوانی دچا یوه سړي جاګیر نه دی: **سوال**: (۱\۲۰۱) دنکاح خوانی متعلق څه حکم دی اوداکار دیوخاص سړی یادسړیو دپاره مخصوص کیدی سی اوکه نه؟ که یوسړی ددی کار دپاره دسرکار دطرف څخه مقرر نه وی چی دا ووایه نو دابه جائز وی اوکه نه؟ په دی زمانه کی یو باقاعده دنکاح رجسټر ساتل دډیرو خرابیو څخه دمحفوظ کیدو ذریعه ده او دښځی او خاوند دحقونو دحفاظت یوه ښه ذریعه ده اوداهم ښکاره ده چی ترڅو دنکاح خوانی دخدمت په غرض سره خاص سړی یا کسان مقرر نه سی نوبیا درجسټر یا دنکاح کتاب ساتل ناممکن دی، دقاضیانوپه درخواست کي چي کمي نذرانې دسرکار په نسبت لیکلي دي داپه حقیقت کي یوعبث کاردی دیوې سرکاري نذرانې یا محصول مقرر کیدل څومره ناوړه دی، اوګواکي په دې ریاست کي دازوړ قانون ددوهمي نکاح په اړوند دډیري پخوانۍ زماني راهیسي رارواں دی کله چي دقانون رواج داسي نه ؤ لکه څنګه چي نن دی، مګر سرکاري عدالتونو سرکاري نذرانه عمداً دنکاح ثاني دپاره لازمي او ضروري نه ده ګڼلي .
جواب: شرعًا دنکاح خوانی دپاره څه قید او پابندی نسته په خپله چی ښځه اوخاوند بالغ وی نوددوو شاهدانو په مخکی خپل عقد کولی سی اوپه ایجاب اوقبول سره نکاح کوی اوکه پخپله یی نه کوی نوهر یوپه دوی کی چی څوك وکیل کړی اونکاح وکړی نوصحیح ده او دوکیل نکاح کول معتبردی اوپه شرع کی ولی هم دې ته مقرردی چی هغه

داکار وکی نوعقد دنکاح دخاص کسانو سره مخصوص کول چی که هم دوی عقد دنکاح وکی خومعتبر دی کنې نه دی معتبر داګویا دشریعت مطلق امر مقید کول دی چی ناجائز دی. نوداسی حکم کول چی ماسوٰی دخاصو خلګو څخه بل څوك به نکاح خوانی نه سی کولی اوکه وی کړه نومعتبر به نه وی اوګویا دابه نکاح نه ګڼل کیږی پرډیرو خرابیو مشتمل دی اودشریعت داحکامو باطلوونکی دی، دا یوازي مناسب نه بلکه په قاعده شرعیه لازم دی چی داحکم دي عام پریښوول سی او دیوچا په رعایت کولو سره دي مخلوق دخپلو حوائجو ضروریه په پوره کولو باندی مجبورنه سی. واللہ تعالٰی اعلم،
کتبه عزیز الرحمٰن عفی عنه . فقط

که دسرکار په مقرر سوی شخص نکاح ونه سی نوهم جائزده: **سوال**: (۲۰۲\۱) دلته سرکار دا یوقانون جاری کړیدی چی څوك نکاح کول غواړی نوهغه به دیوخاص سړی په ذریعه نکاح کوی چی هغه دی لره مقرر دی اوهمدا نکاح جائز ګڼل کیږی.

جواب: چی کله سرکار داقانون مقرر کړیدی نومسلمانانو لره په کاردی چی دوی بغیر دواسطی ددی سړی څخه یوه نکاح هم ونه کړی چی کم ددی دپاره سرکار مقرر کړیدی ځکه چی هسی نه چی داسی نه وی چی منکوحه غیر منکوحه اواولاد دصحیح النسب غیر صحیح النسب وګڼل سی (خو داپه غرض دسهولت مشوره ورکول سویده ددی قانون منل لازم نه دی اوس داقانون هیڅیري هم په لازمی درجی کی نافذنه دی لکه چی مخکی تیر سول چی په دی پابندی کول مفاسد راولي. ظفیر). فقط

دنکاح پیسی په زوره اخیستل څنګه دي؟ سوال: (۲۰۳\۱) دنکاح خوانی پیسی په جبر اخیستل جائزدی اوکه نه؟

دنکاح خوانی دپاره دیو سړی مقررول صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۲۰۴\۲) دنکاح خوانی دپاره شرعًا دیوسړی مخصوص کول ضروری دی اوکه نه؟

جواب: (۱) جائزدی اوچی څومره اجرت معروف وی هم هغه دی، دا موافق ددی قاعدی دی چی المعروف کالمشروط ، نو جبرا یې هم اخیستی سی.
(۲) ضروری نه دی اوکه انتظاما داسی وسی نوڅه حرج نسته.

دخور دواده دخاطره خپل واده یی وکی نوصحیح دی: **سوال**: (۲۰۵\۱) زه غریب یتیم یم اوزما خور یتیمه قریب البلوغ بلکه بالغه ده که زه دخپلی خور دنکاح دعقد په عوض کی خپله نکاح وکړم نوجائز ده اوکه نه؟

جواب: شریعت په دی کی څوك نه مجبوروی چی کم ځای موقع وی اومناسب وی نوخپل او دخور عقد دی وسی.

نکاح په شهرت سره کول ښه دی اوکه په پټه؟ سوال: (۲۰۶) شرعا نکاح په شهرت سره کول ښه دی اوکه په پټه؟

جواب: ښه داده چې په شهرت سره وسي اوددوو شاهدانو په مخکې اوکه په پټه ایجاب اوقبول وسي نوبیا هم نکاح صحیح ده.

یو رافضٰی نکاح وایي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۰۷) یو رافضي دیوسنی نکاح وویل نو صحیح ده اوکه نه؟

جواب: نکاح صحیح ده ځکه چې ناکح اومنکوحه دواړه سني دي او رافضي خوصرف ایجاب اوقبول ورځینی اخیستی دی، نوددی سره په نکاح کی هیڅ فرق نه راځي خو مناسبه داده چې رافضي دی نکاح خوان دسني (سنیانو) جوړ نه سي.

په جومات کی نکاح کول صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۲۰۸) په جومات کی نکاح کول دا بالاتفاق صحیح دی اوکه نه اختلاف پکښې سته؟

جواب: صحیح دی.

نکاح په جومات کی مستحب ده: **سوال**: (۲۰۹) زیدوایي چې دمسلمانانو نکاح په جومات کی کیدل پکاردی، ځکه چې په قرون ثلثه ؤ کی به نکاح په جومات کی کیدله، عمر وایي چې په جومات کی نکاح کول خواول مشابهت دنصاریٰ سره دی چې هغوی په ګرجه کی نکاح کوی بل ددی څخه علاوه په جومات کی ددی نکاح دپاره ړنا ډیره زیاته کیږی، اودهمیشه څخه فرش وغیره زیات خپرول وی اوزر دولس سوه کسان جومات ته راننوځی چې په دوی کي اکثره کسان بی اودسه اوبی نمازه وی. اوبیا دنکاح څخه وروسته په همدی جومات کی هلك ته مبارکی ګانی وایي او بیاپه جومات کی شربت ورکول شور او غوغا کیدل. چې دهغی په سبب دډیرو لمونځ ګزارو په لمانځه کی فرق راځي اونور داسی اعمال وغیره وغیره. اودا ټول دجومات دادابو څخه خلاف دی. ددی وجه څخه په جوماتونو کی نکاح کول نه دی پکار. نوپه دی دواړو کی کم یو پر حق دی؟

جواب: په درمختار کی دی: ویندب اعلانه وتقدیم خطبته وکونه فی مسجد یوم جمعة الخ. (۱) ددی حاصل دادی چې په نکاح کی دا امور مستحب دی، اعلان کول، خطبه ویل، جومات کیدل، دجمعی په ورځ کول، وغیره، نوحتٰی الوسع ددی امورو خیال ساتل پکار ښه اومبارك دی، اوپه شامی کی یی په جومات کی دنکاح داستحباب وجه دالیکلی ده: للامربه فی الحدیث. یعنی په حدیث شریف کی ددی حکم راغلی دی چې په

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۵۹ ج۱. ط.س. ج۳ ص ۸. ظفیر

جومات کی نکاح وواياست. دا الفاظ دحديث شريف دی چی په هغه کی دی: وعن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ اعلنو هذا النكاح واجعلوه فی المساجد واضربوا عليه بالدفوف رواه الترمذی (۱) حاصل دادی چی حضور پاك ﷺ فرمایی چی ددی نکاح اعلان وکړی اوداپه جوماتونو کی وکړی اوپر دی ډول ووهی. په مرقات کی ليکلی دی چی قوله بالدفوف لكن خارج المسجد (۲) يعنی که دف وی نوخارج دی دجومات څخه وی. نو معلومه سوه چی دزيد قول صحيح دی. خو دجومات دادابو خيال ساتل پکاردی لکه چی دمرقات دعبارت څخه هم واضحه سوه. چی دف خارج عن المسجد کيدل په کاردی، دا رکم په جومات کي نور خلاف شرع کارونه کول هم نه دی پکار. فقط

<u>دوليمی خوراک کله مسنون دی؟</u> سوال: (۲۱۰) دوليمی خوراك کول کله مسنون دی. يوه ډله وايي چی دنکاح په سهار اوبله ډله وايي دډولی څخه وروسته سهار؟

جواب: دوليمی خوړل دنکاح څخه وروسته هروخت جائزدی اوپه هری طريقی سره سنت ادا کيږی دنکاح په سهار وی چی لومړۍ شپه وي اوکه نه وی اوبعضی عالمان خووايي چی دنکاح څخه وروسته دی هم وکړی او دلومړۍ شپې څخه وروسته هم يعنی چی کله لومړۍ شپه ترنکاح څه موده وروسته وی، په مرقات کی دی: قيل انها يكون بعد الدخول وقيل عند العقد وقيل عندهما (۳).

<u>چی نکاح مخکی سوی وی اولومړۍ شپه څو مياشتی وروسته وی نو وليمه کله ورکول پکار دی؟</u> سوال: (۲۱۱) بعضی وخت نکاح داسی وی چی شپږ مياشتی مخکی وسی او ناوي شپږ مياشتی وروسته ولاړه سی نو دعوتِ وليمه دنکاح څخه وروسته پکاردی اوکه ديو ځای کيدو دشپی څخه وروسته؟

جواب: په شرح شرعة الاسلام کی ليکی: وكذا الوليمة سنة الخ واختلفوافی وقت الوليمة قال بعضهم بعد الدخول بها وقال بعضم عند العقد وقال بعضهم عندهما جميعاً (۴) ددی حاصل دادی چی بعضی وايي دنکاح وخت دی اوبعضی وايي بعد الدخول اوبعض وايي چی په دواړو کی دی چی کم وخت دی خوښه سی، غرض داچی که دنکاح څخه وروسته وی اوکه درخصت څخه وروسته وی خوسنت به اداء سی.

---

(۱). ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۵۹ ج۱. ط.س. ج۳ ص ۸. ظفير
(۲). مرقات شرح مشکوٰة باب اعلان النکاح ص ۴۲۵ ج۳. ظفير
(۳). مرقات المفاتيح شرح مشکوٰة المصابيح باب الوليمة ص ۴۵۰ ج۳. ظفير
(۴). شرح شرعة الاسلام ص ۴۴۷. ظفير

نکاح متعه او موقته باطله ده: **سوال**: (۲۱۲) قاضی حسن الدین دیوسړی دیوی ښځی سره دشپږو میاشتو دپاره نکاح متعه وکړه اوقاضی صاحب موصوف ته دسرکاري نظام څخه ددونمبر معافی ورته صرف په حق الخدمت کی ورکول سویده اوقاضی موصوف بی علمه سړی دی په داسی سړی پسی لمونځ صحیح دی اوکه نه؟ که زموږ دسرکار نظام صدر الصدور، امور مذهبی دا محکمي دارکم ضبط کړی اویو داسی سړی ته یی ورکړی چي جومات آباد کړی اواشاعت داسلام وکړی نوداسی کول ترکمه پوري جائزدی؟

جواب: په درمختار کی دی: وابطل نکاح متعة وموقت [1] نومعلومه سوه چی نکاح متعه او موقته باطله ده، چی کم قاضی داسی وکړل نوهغه جاهل اوفاسق دی اوامامت دده مکروه دی اودی امام مه جوړوی اودی ددی عُهدې څخه معزول کول پکاردی اوچی کله دی پر عُهده پاته سو نو صدر الصدور امور مذهبی لره اختیاردی چی دده حق الخدمت بل سړی ته ورکړی چی کم یودا خدمت کوی.

نکاح متعه صحیح نه ده او دشیعه ګانو دعوٰی غلطه ده: **سوال**: (۲۱۳) دلته شیعه ګان دی وایي چی دمتعی حلال والی په آیتونو اواحادیثو اوپه کتابونو داهل سنت سره ثابت دی اوآیت داپیش کوی چی: فما استمتعتم الآیة، او کتابونه داهل سنتو دا پیش کوی، تفسیر درمنثور، تفسیر کبیر، تفسیرِ طبری، صحیح مسلم، صحیح بخاری، عینی شرح بخاری داټولی حوالی صحیح دی اوکه نه؟ اوبل قول دحضرت عمر ﷺ پیش کوی چی: متعتان کانتا علی عهد رسول الله ﷺ وانا احرمهما، ددی څه مطلب دی؟

جواب: دآیت. فما استمتعتم به منهن صحیح معنٰی داده چی دکمی ښځی څخه تاسی فائده واخلی په نکاح سره نوددی مهر ورکی. کما فی الجلالین: فما استمتعتم، تمتعتم به منهن ممن تزوجتم بالوطي الخ ص ۷۲، وفي المدارك فما استمتعتم به منهن فما نکحتموه منهن [2] الخ وفي الخازن واما الآية فانها لم تتضمن جواز المتعة لانه تعالٰی قال فيها ان تبتغوا باموالکم محصنين غير مسافحين فدل ذلك على النكاح الصحيح [3]، وفيه ايضا برواية مسلم عن سبرة بن معبد الجهني انه كان مع رسول الله ﷺ فقال يا ايها الناس اني كنت اذنت لكم في الاستمتاع من النساء وان الله قد حرم ذلك الى يوم القيامة فمن كان عنده منهن شيئاً فيلخل سبيله ولا تاخذوا مما آتيتموهن شيئاً والى

---

[1]. الدر المختار باب المحرمات ص ۱۹۰ ج۱ ، ط.س. ج۳ ص ۱۵. ظفیر

[2]. تفسیر مدارك ص ۱۷۰. ظفیر

[3]. تفسیر خازن الموسوم بلباب التاویل ص ۴۲۳ ج۱. ظفیر

هذا ذهب جمهور العلمآء من الصحابة فمن بعدهم ای ان نکاح المتعة حرام الخ ص ۴۰۸ خازن. نومعلومه سوه چی حوالی دشیعه گانو غلط اوافتراء ده.

وروی سالن بن عبدالله بن عمر ان عمربن الخطاب ﷺ صعد المنبر فحمدالله واثنی علیه ثم قال مابال اقوام ینکحون هذه المتعة وقد نهی رسول الله ﷺ لااجد رجلا نکحها الا رجمته بالحجارة ص ۴۰۹ خازن.

ددی روایت څخه داهم معلومه سوه چی ددوی ﷺ فرمایل چی احرمها بتحریم رسول الله ﷺ لکه چی په روایت دسالم کی موجود دی: وقد نهی رسول الله ﷺ عنها وفی متعة الحج تفصیل لا یلیق بهذا المقام. فقط

دریم باب

هغه ښځې چې دهغوی سره نکاح صحیح ده

دښځې په وجود کی دښځې ناسکه وریری سره نکاح صحیح ده: سوال: (۲۱۴) دعبدالکریم داکا دلور واده داحمد حسن سره وسو اوس دده داکا لور په څو وجوهاتو چی همیشه مریضه وی وخپل خاوند ته ددوهم واده اجازه ورکړیده نودعبد الکریم دلور سره داحمد حسن نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: نکاح داحمد حسن مذکور په دی صورت کی دعبدالکریم دلور سره صحیح ده، کذا فی کتب الفقه ([1]).

ښځه چی کله ووایی چی خاوند ماته طلاق راکړیدی نو ددی سره نکاح صحیح ده: سوال: (۲۱۵) دیوی ښځی دخاوند پته نسته او داوایی چی زه خاوند طلاقه کړی یم نو ددی سره نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: لوقالت امرأة لرجل طلقنی زوجی وانقضت عدتی لا بأس ([2]) ان ینکحها الخ. یعنی که یوی ښځی دابیان وکی چی زما خاوند ماته طلاق راکړیدی او زما عده هم ختم سویده نوددی سره په نکاح کولو کی څه باك نسته. اوشامی دخانیه څخه دانقل کړیدی چی داهلته چی دی سړی ته داگمان وی چی دا ښځه رښتیا وایی. اودا ښځه معتبره معلومیږی ([3]).

([1]). وحرم الجمع وطأ بملك یمین بین امرأتین ایتهما فرضت ذکر لم تحل للاخری ابدا الخ فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۸). ظ

([2]). الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارکتاب الحظروالاباحة فصل فی البیع ص۳۷۱ ج۵، ط.س. ج۶ ص ۴۲۰).

([3]). حاصله انه متی اخبرت بامر محتمل فانه ثقة اووقع فی قلبه صدقها لاباس بتزوجها (ایضا ط.س. ج۶ ص ۴۲۱). ظفیر

دطلاقي سوي ښځې سره وروسته دعدې څخه نکاح صحيح ده: سوال: (۲۱۶) وزير خان خپله ښځه تقريبا دولس کاله وسوه چې دخپل کور څخه يې ايستلې ده. قاضي صاحب وزير خان ته هدايت وکې چې ته خپله ښځه بوزه. وزير خان جواب ورکې چې زما دطرف څخه طلاقه ده. نودې ښځې دمحب الله سره نکاح وکړه نودا نکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: چې وزير خان دالفظ ووايه چې زما دطرفه طلاقه ده دغه وخت دده پرښځې طلاق واقع سو نوکه ددې نکاح دمحب الله سره وروسته دعدې دتيريدو څخه سوې وي چې دحائضې دپاره درې حيضه دې نودانکاح صحيح ده لکه چې الله ﷻ فرمايې: والمطلقات يتربصن بانفسهن ثلثة قروء ([1]).

په نکاح کې شرط لګول باطل دي خونکاح کيږي: سوال: (۲۱۷) زموږ په زمانه کې بعضې انجلې والا يو معلوم شرط لګوی اودهلك والا سره رشته يعنې بدلون کوی نودا شرعا صحيح ده اوکه نه؟

جواب: نکاح ددواړو صحيح اوشرط باطل دی اومهر دهر يوه جلا جلا واجبيږي. ([2])

داکا دلور دخاوند سره دخپل لور نکاح صحيح ده چې داکا لور مړه سوې وي: سوال: (۲۱۸) دهندې داکا لور زبيده وفات سوه اوس هنده دخپلې لور نکاح دزبيده مرحومې دخاوند سره کولی سی اوکه نه؟ **جواب:** کولی يې سی. ([3])

دخوريې ښځه چې خوښينه هم ده دښځې دمرګ څخه وروسته ددې سره واده صحيح دی:

سوال: (۲۱۹) زيد دعمر سکه خوريې دی اوددواړو ښځې په خپل مينځ کې خوندې دی دعمر ښځه مړه سوه او لږ وخت وروسته زيد هم مړ سو آيا په داسې صورت کې دزيد دښځې سره دعمر نکاح وروسته دعدې څخه جائز ده اوکه نه؟

جواب: دعمر نکاح دزيد دښځې سره په دې صورت کې جائزده چې دعمر خوښينه هم ده او دخوريې ښځه هم وه صحيح ده. ([4])

هريو دبل دزوی سره دخپلې خپلې لور نکاح وکړی نودا صحيح ده: سوال: (۲۲۰) زيد دخپلې لور دعمر دزوی سره اوعمر دخپلې لور دزيددزوی سره نکاح وکړه اومهر ددواړو انجونو په شرعې طور باندې مقرر اومعين سو نودا نکاح شرعا جائزده اوکه نه؟

([1]). سورة البقرة رکوع ۲۸. ظفير

([2]). ووجب مهر المثل فی نکاح الشغار هوان يزوجه بنته على ان يزوجه الآخر بنته اواخته مثلاً معاوضة العقدين وهو منهى عنه بخلوه عن المهر فاوجبنا فيه مهر المثل فلم يبق شغارا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المهر مطلب نکاح الشغار ص۴۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۰۶). ظفير

([3]). څه وجه دحرمت نسته اوپه: احل لکم ما وراء ذالکم (النساء : رکوع ۴) کې داخل دی. ظفير

([4]). قال الله تعالى: واحل لکم ما وراء ذالکم (النساء : رکوع ۴) . ظفير

جواب: ددواړو نکاح شرعًا صحیح سوه ([1]).

دخاوند دمرګ څخه وروسته دخاوند دزوم سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۲۲۱\۱) دخاوند انتقال وسو دده زوم دا کونډه په نکاح اخیستی سی اوکه نه دخاوند زوم چی دی نو دده نکاح دخاوند دمخکنی ښځی دلور سره سویده نودایی میریزی خواښې ده؟

دښځی زوی مړسی نو دده دښځی سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۲۲۲\۲) دښځی مړور چی داهلك دښځی داولنی خاوند څخه وی مړسی نو ددی مړور سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: (۱. ۲) په دی دواړو صورتونو کی نکاح صحیح ده. کما فی الدر المختار. ([2])

دطلاقی سوی ښځی نکاح دپلار داکا دزوی سره صحیح ده: سوال: (۲۲۳) یوسړی خپلی ښځی ته طلاق ورکړی ددی طلاقی سوی ښځی نکاح دخاوند دپلار داکا دزوی سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ اوطلاقه سوی ښځه غیر مدخول بهاده نوپر دی عده لازمه ده اوکه نه؟

جواب: ددی طلاقی سوی ښځی نکاح دمخکنی خاوند دپلار داکا دزوی سره جائزده اوهم صحیح که دخاوند دسکه اکا سره یی هم نکاح کولی نوصحیح کیدله ([3]) اوچی طلاقه سوی ښځه غیر مدخول بها ده نوعده باندی لازمه نه ده، کماقال الله تعالی: ثم طلقتموهن من قبل ان تمسوهن فما لکم علیهن من عدة تعتدونها ([4]).

دیوی خور زوی وی او دبلی خور لمسی نونکاح صحیح ده: سوال: (۲۲۴\) بشیر او میکن دواړه سکه خوندی دی دبشیر دوه زامن عبد الغفور اوعبد الشکور دی اودمیکن دری بچیان سعد الله، نصرالله، او یوه انجلۍ دی، دعبدالغفور واده دمیکن دلور سره وسو نو دعبد الشکور واده دمیکن دلمسی یعنی دبدلی دلور سره روا دی شرعا اوکه نه؟

جواب: دمسماة بشیر دزوی عبدالشکور سره نکاح دمیکن لمسی یعنی دبدلی دلور سره صحیح ده شرعًا ځکه چی داپه: احل لکم ماوراء ذالکم، ([5]) کی راغلی دی.

دخوښینی دلور سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۲۲۵\) بکر دخپلی سکه خوښینی دلور سره عقد کول غواړی نوشرعاً جائزدی اوکه نه؟

([1]). ایضًا . ظفیر

([2]). فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها او امرأة ابنها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المحرمات ص ۳۹۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۹). ظفیر

([3]). واحل لکم ماوراء ذالکم، النساء : رکوع ۴. ظفیر

([4]). سورة الاحزاب رکوع ۷. ظفیر

([5]). النساء رکوع ۴. ظفیر

جواب: که دبکر ښځه دبکر په نکاح کی نه وی نو ددی دخورزی سره نکاح جائزده. اوترور اوخورزه په نکاح کی یوځای کول جائزنه دی (۱).

دډمی سره نکاح صحیح ده: **سوال**: (۲۲۶) یوسړی دډمی سره نکاح وکړه او داډمه علاوه دزنا څخه خپل کسب رقص او سندری هم وایی نونکاح باقی ده اوکه نه؟

جواب: نکاح باقی ده (۲).

دوراره دکونډې سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۲۲۷) دسکه وراره ښځه دده داکا سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دوراره دمرگ څخه وروسته او دده دښځی دعدی څخه وروسته مذکوره نکاح جائز ده اودا حکم دطلاق ورکولو په صورت کی هم دی (۳).

ډمی په دې شرط نکاح وکړه چې درقص کولو کسب به باقی ساتم نوځه حکم دی؟ سوال: (۲۲۸) یوې ډمی په دی شرط نکاح وکړه چی دابه خپل درقص کسب جاری ساتی نو شرعًا دانکاح وسوه اوکه نه؟ اوکه داسندری وغیره وایی نونکاح به باقی وی اوکه نه؟

جواب: نکاح صحیح سوه او وروسته هم باقی ده که څه هم دواړه گنهگار اوفاسق (۴) دی ترڅو چی توبه ونه کاږی.

داکا او دوراره دښځی سره نکاح صحیح ده: **سوال**: (۲۲۹) سکه اکا اووراره چی مړه وی نو ددوی دښځو سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: داکا او دوراره دوفات څخه وروسته ددوی دکونډو سره دعدی څخه وروسته نکاح صحیح ده (۵).

دښځی دمخکی لور سره دورور نکاح کول څنګه دی؟ سوال: (۲۳۰) زید دیوې ښځی سره واده وکی او ددی سره یوه لور دبل خاوند څخه راغله نواوس دازید ددی انجلی نکاح دخپل سکه ورور سره کولی سی اوکه نه؟

جواب: ددی انجلی نکاح یې دکوچنی ورور سره کول جائز دی. (۶) فقط

---

(۱). ولا يجمع بين المرأة وعمتها او خالتها او ابنة اخيها او ابنة اختها (هدايه مجيدي فصل في المحرمات ص۲۷۲ ج۲). ظفير

(۲). وصح نكاح حبلى من الزنا الخ وان حرم وطؤها ودواعيه حتى تضع الخ ولايجب على الزوج تطليق الفاجرة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار وفصل في المحرمات ص ۴۰۱ – ۴۰۲ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۴۸). ظفير

(۳). واحل لكم ما وراء ذالك (النساء : ركوع ۴). ظفير

(۴). لكن لايبطل النكاح بالشرط الفاسد وانما يبطل الشرط الفاسد دونه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ص۴۰۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۳). ظفير

(۵). و(۶). ددې وجه چې څه وجه دحرمت يې نسته ، ارشاد دی: واحل لكم ما وراء ذلكم (النساء: ركوع۴). ظفير

دغیر مقلد اولاد سره نکاح صحیح ده: **سوال:** (۲۳۱) دغیر مقلد کمه فرقه چی ځانته اهل حدیث وایی ددوی دزوی یا لور سره نکاح کول شرعا جائز دی اوکه نه؟

جواب: که نکاح وسی نونکاح به منعقده وی ([1]) خو دداسی فرقو او دمتعصبو خلکو دنکاح څخه خورږ نبی کریم ﷺ او ورسره دخوارك او څښاك څخه هغه ﷺ منع کړیده، نو ښه داده چی ددوی سره داقسم تعلقات، واده، وغیره ونه سی (په موجوده دورکی دپخوا په شان تعصب هم باقی نه دی، ظفیر) .

په دری طلاقو طلاقه سوی ښځه چی پر هغې تهمت وو نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال:** (۲۳۲) یوسړی خپلی منکوحي ښځی ته دخپل پلار سره دزنا نسبت وکی اوطلاقه یی کړه او دده پلار اودغه ښځه دزنا څخه منکردی اوشاهد یو هم نسته. اوس دمذکوره ښځی نکاح دمخکنی خاوند دورور سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دعدی څخه وروسته دمخکنی خاوند دورور سره دنکاح اجازه سته ([2]).

په دوو سکه خوندو کی دیوی نکاح دپلار سره او دبلی دا دبل زوی سره وسوه نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۳۳) دوې سکه خوندی دی یوه دپلار په نکاح اودوهمه دزوی په نکاح کی ده نو آیا دا روا دی اوکه نه؟

جواب: دوی سکه خوندی چی یوه دپلار په نکاح کی اوبله دزوی په نکاح کی وی نکاح یې صحیح ده. شرعا په دی کی هیڅ باك نسته داپه: واحل لکم ما ورآء ذلکم ([3]) کی داخل دی. اصل دادی چی ددوو خوندو دیوه سړی سره په نکاح کی یوځای کیدل منع دی او دپلار او دزوی په نکاح کی کیدل یې منع نه دی.

دیهودی او دنصرانی ښځی سره نکاح صحیح ده: **سوال:** (۲۳۴) دیهودی یا دنصرانی ښځی سره نکاح کول دمسلمان صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دیهودیی یا نصرانیی ښځی سره دمسلمان سړی نکاح صحیح ده په درمختار کی دی: وصح نکاح کتابیة وان کره تنزیها ([4]) . فقط

بالغ خاوند که نابالغی ښځی ته طلاق ورکړی اوبیا ورسره واده کول غواړی نو دوباره به نکاح

([1]). وفی النهر تجوز مناکحة المعتزلة لانا لانکفر احدا من اهل القبلة وان وقع الزاما فی المباحث. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵). ظفیر

([2]). ځکه چي څه علت دحرمت یې نسته، په: واحل لکم ما وراء ذالکم،کی داخل دی. ظفیر

([3]). النساء : رکوع ۴. ظفیر

([4]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۹۷ ج۲، ط.س. ج۳ ص۴۵. ظفیر

کوي؟ سوال: (۲۳۵) که مور اوپلار په زور دنابالغی دخاوند څخه طلاق واخلی اوبیل یې کړی دانجلی دبلوغ څخه وروسته ددی دخاوند سره نکاح کول غواړی نوپه دوباره خطبه کي ایجاب وقبول اوشاهد پکاردی اوکه دي بغیر ددی کارونو څخه انجلی خاوند ته حواله سی.

جواب: خاوند چی بالغ وی نوکه ښځه نابالغه وی هم طلاق واقع کیږی (۱) بیا که داول خاوند سره نکاح کول غواړی نو نوی مهر اوشاهد وغیره ټول امور متعلقه دنکاح کول پکار دی.

په مذکوره صورت کی څه حکم دی؟ سوال: (۲۳۶) زید اوبکر سکه وروڼه دی، زید دکور څخه خفه ولاړی اوتر لسو کالو پوری یې هیڅ پته نه وه ورك سو دده ښځی دبکر سره نکاح وکړه بیا لس دولس کاله وروسته زید بیرته راغی نوبکر دي ته طلاق ورکی اودزید سره یې ورته نکاح وکړه. نودزید یوه لور ده اودبکر دمخکی ښځی څخه یوزوی دی دزید دلور سره دبکر دزوی نکاح جائزده اوکه نه؟ نکاح دزید وروسته دعدی دتیریدو څخه سویده اودا انجلی دنکاح څخه وروسته پیدا سویده اوس ددې نکاح ددې هلك سره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: که انجلی دهلك دنکاح څخه شپږ میاشتی وروسته پیدا سوی وی یا ددی څخه زیاته نودبکر دزوی چی دبلی ښځی څخه دی ددې سره یې نکاح صحیح ده. (۲)

دښځی داخبره چی ماته زما خاوند طلاق راکړیدی منل صحیح دی: سوال: (۲۳۷) یودرزی یوه ښځه راوستله ددی ښځی بیان دی چی ماته زما مخکنی خاوند طلاق راکړیدی او عده هم تیره سویده ددی څخه وروسته دجومات امام ددی ښځی نکاح ددغه سړی سره وکړه. نودا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ولوقالت امرأة لرجل طلقنی زوجی ومضت عدتی لا باس ان ینکحها. (۳) یعني که یوه ښځه بیان ورکړي چي ماته زما وړاندیني خاوند طلاق راکړیدی او زما عده تیره سویده نو دا سړی ددې سره نکاح کولی سي نو معلومه سوه چي موافق دبیان ددې ښځي ددې دوهمه نکاح صحیح سوه. فقط

وې ویل چي هلک بي عیبه دی او نکاح یې وکړله بیا وروسته دده عیب ښکاره سو نو څه حکم

---

(۱). ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ص۵۷۹ ج۲، ط.س. ج۳ ص۲۳۵). ظفیر

(۲). ځکه چي داهم په: احل لکم ما وراء ذالکم ، کی داخل دی. ظفیر

(۳). وګوره شامي باب العدة ص۸٤۷ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۵۲۹ . ظفیر

دې؟ سوال: (۲۳۸) يو سړی دخپلي لور رشته دڅلورو سړيو په وړاندي په دې شرط وکړه چي هلك به بې عيبه وي نو هلك چي دهغه عمر لس دولس کاله دی دځان سره يې بوتلی اوپه حکمتِ عملي سره يې دده عيبونه ښکاره نه کړه دنکاح څخه دوې مياشتي وروسته انجلۍ والاَ ته معلومه سوه چي دهلك يوه پښه او يو لاس پر اصلي حالت باندي نه دي، موټ يې لکه دستني غوندي نری دی اوپه پښه کي يې درې ټپونه دي او دده کسب دپښتوب (آهنګري) دی او دنکاح په رجسټر کي ليکل سوی نه دی نوآيا دا نکاح صحيح پاته ده اوکه نه؟

جواب: دا نکاح صحيح سويده. [1] ماسوا ددې څخه بل څه صورت نسته چي خاوند کله بالغ سي او ددې څخه وروسته ورلره طلاق ورکړي نودغه وخت طلاق واقع کيدی سي. [2]

يوه خور چي غير مدخول بها ده که ئې طلاق ورکړی نو ددې ددويمي خور سره فوراً واده جائز دی؟ سوال: (۲۳۹) صغيرن اوکبيرن دواړي سکه خويندي دي دزيد واده دصغيرن سره مقرر سو خو نکاح يې په غلطي سره دکبيرن سره وسوه ددې څخه وروسته بيا په دويمه ورځ دصغيرن سره نکاح وسوه او صغيرن يې کورته راوستله او يوه مياشت وروسته يې کبيرن ته طلاق ورکړی او صغيرن په خپل کور کي ده نوپه دې صورت کي دصغيرن نکاح صحيح سوله اوکه نه؟ که دصغيرن نکاح ناجائز وي نو دجائز کېدو يې څه صورت دی؟

جواب: قال في الشامي فلو علم فهو الصحح والثاني باطل الخ [3] ددې څخه معلومه سوه چي دصغيرن نکاح باطله سوه وروسته دطلاق ورکولو څخه، بيرته دي بيا دصغيرن سره نکاح وکړي خو چي دکبيرن سره خلوت او وطی نه دي سوي ددې وجه څخه دعدت التزام نسته او کبيرن ته دطلاق ورکولو څخه وروسته فوراً دصغيرن سره نکاح کولی سي، ثم طلقتموهن من قبل ان تمسوهن فما لکم عليهن من عدة تعتدونها. (الاحزاب : ۲).

دخوريی دکونډې يادطلاقی سوی ښځی سره نکاح صحيح ده: **سوال**: (۲۴۰) دخوريی دښځی

---

[1] دانجلی نسب څه دی، داپه سوال کي مصرَّح نه دي که په کفاءت کي هم فريب ورکول سوی وي نو انجلۍ ته اختيار سته . افاد البهنسي انه لو تزوجته على انه حر او سنى او قادر على النفقة فبان بخلافه او على انه فلان بن فلان فاذا هو لقيط او ابن زنا كان لها الخيار (الدرالمختار على هامش ردالمحتار قبيل باب العدة ص۸۲۲ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۵۰۱). ظفير

[2] ويقع طلاق كل زوج اذا كان عاقلا بالغا (هدايه كتاب الطلاق ص۳۲۹ ج۲، ط.س. ج۳ ص۲۳۵). ظفير

[3] ردالمحتار للشامي فصل في المحرمات ص۳۹۳ ج۲، ط.س. ج۳ ص۴۰ تحت قول الماتن وان تزوجهما معاً اى الاختين الخ . ظفير

سره دماما نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: هو! کولی یې سی (۱) (یعنی دخوریې دمرګ یادطلاق څخه وروسته اودعدی دتیریدو څخه وروسته. ظفیر)

دمخکنی خاوند چې کمه لوروی دهغه نکاح ددوهم خاوند دزوی سره چې دبلې ښځې څخه وي جائزده؟ **سوال**: (۲۴۱) یوی ښځې خاوند وکی اودهغه څخه یې لور یا زوی پیدا سو اودا خاوند یې مړسو دی ښځې بل خاوند وکی په دی صورت کی دمخکنی خاوند دلور سره ددوهم خاوند دزوی نکاح شرعًا جائز کیدی سی اوکه نه؟

جواب: ددوهم خاوند زوی که دده دبلې ښځې څخه وی یعنی ددی کونډی څخه نه وی چې دهغه سره یې اوس نکاح کړیده نوددی کونډی ښځې دلور چې دپخوانی خاوند څخه یې ده نکاح ددی ددوهم خاوند دزوی چې دبلې ښځې څخه دی صحیح (۲) ده (اوکه داسی نه وی بلکه دواړه دیوې ښځې اولاد وی چې یو ددی خاوند څخه وی اوبل دبل خاوند څخه نو بیا نکاح صحیح نه ده. ظفیر)

داخښې دلور سره نکاح صحیح ده او دده دبلې لور سره دده دزوی نکاح هم صحیح ده چې دبلې ښځې څخه وی: **سوال**: (۲۴۲) دزید په نکاح دخالد خور وه هغه مړه سوه اودزید داخښې یعنی دخالد دوې لوڼی دی، نوزید دیوی انجلی سره خپله او دبلې انجلی سره دزوی نکاح کول غواړی دزید زوی دخالد دخور څخه نه دی بلکی دبلې ښځې څخه دی نو په دی مسئوله صورت کی ددواړو نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دزید نکاح دخالد دلور او دزید دزوی نکاح دخالد دبلې لور سره جائز ده. (۳)

مخکی یې ښځې ته طلاق ورکی بیایې دخوښینی سره نکاح وکړه نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۴۳) یوسړی خپلی ښځې ته طلاق ورکی دطلاق دعدی دتیریدو څخه وروسته یې دخپلی سکه خوښینی سره نکاح وکړه خوتمام خاندان په دی کار سخت نارضا اومعترض دی چې دافعل شرعا ناجائز دی او ورته وایې چې دوهمه ښځه پرېږده اومخکنی ښځه طلاقه سوی بیاپه نکاح واخله. چې کمه نکاح سویده جائزده اوکه نه؟ اوآیا دمطلقی ښځې سره دحلالې څخه بغیر نکاح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: نکاح چې دطلاقی سوی ښځې دخورسره وروسته دعدی څخه سویده شرعاً صحیح

---

(۱). ځکه چې داهم په: احل لکم ما وراء ذالکم ، کی داخل دی. ظفیر

(۲). ددواړو هلکانو اوانجونو مور اوپلار جلا جلادی، په دی کی کمه وجه دحرمت نسته په: وَاُحِلَّ لَکُمْ مَاوَرَاءَ ذٰلِکُمْ. کی شامل دی.

(۳). ایضاً. ظفیر

([1]) ده اوس چې دپخوانی ښځې سره نکاح کول غواړی نودی دوهمی ښځی ته به طلاق ورکړی اوددی دعدی تیریدو څخه وروسته (که دا مدخول بها وی) دپخوانی ښځی سره دي نکاح وکړي خوکه دې ته دری طلاقه ورکول سوی وی نوبیا دحلالی څخه بغیر نکاح صحیح نه ده ([2]).

<u>دیوه ورور سره یی کوزده وسوه اوس ددوهم ورور سره یی واده صحیح دی اوکه نه؟</u> سوال: (۲۴۴\) دیوسړی رشته دیوی ښځی سره وسوه اوصرف دکوزدې رواج وسو عقد ونه سو وروسته بیا دڅه وجهي کوزده ماته سوه نوپه دی صورت کی ددی ښځی عقد ددی سړی دمشر ورور سره جائزدی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح ددی ښځی دخاوند دورور سره صحیح ده ځکه چی کوزده عقد دنکاح نه دی بلکه وعده ده نوچی کله دیوې وجهي داوعده پوره نه سوه اوعقد دنکاح یی دبل سره وکړي نونکاح صحیح ده که څه هم بی وجهي خلاف دوعدی کول او کوزده ماتول ښه نه دی ([3]).

<u>دحاملی سره نکاح کول صحیح دی که څه هم حمل یی دبل څخه وی</u>: سوال: (۲۴۵\) دیوی ښځی حمل دی ددی سره نکاح جائز کیدی سی اوکه نه؟ نکاح به څنګه جائز وی چی حمل دبل چا وي او نکاح دبل چا سره وي؟

جواب: دحامله عن الزنا نکاح صحیح ده که دهغه سره وی چه دچا څخه ئی حمل دی اوکه دبل سره خو که دبل سره نکاح کوی نو نکاح خو صحیح ده خو تر حمل پیدا کیدو پوری به دی دې ته نه ورنژدی کیږی. ([4])

<u>دپلار داکا دزوی سره نکاح جائز ده اوکه نه؟</u> سوال: (۲۴۶) دهندې دخپل پلار داکا دزوی څخه شرعا پرده کول واجب دی اوکه نه اود هندې نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: پرهندې دخپل پلار داکا دزوی څخه پرده کول واجب دی اودهندې نکاح شرعا دده

([1]). و) حرم (الجمع) بين المحارم (نكاحا) أي عقدا صحيحا (وعدة ولو من طلاق بائن (درمختار) شمل العدة من الرجعي الخ وأشار إلى أن من طلق الأربع لا يجوز له أن يتزوج امرأة قبل انقضاء عدتهن ، فإن انقضت عدة الكل معا جاز له تزوج أربع ، وإن واحدة فواحدة بحر (ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۹۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص۳۸). ظفير

([2]). وان كان الطلاق ثلاثا في الحرة الخ فلا تحل له حتى تنكح زوجاغيره (هدايه باب الرجعة ص۳۷۸ ج۲). ظفير

([3]). هل اعطيتنيها ان المجلس للنكاح وان للوعد فوعد (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ص۳۲۴ ج۲، ط.س. ج۳ ص۸). ظفير

([4]) وصح نكاح حبلى من زنا لا جعلى من غيره الخ وان حرم وطؤها ودواعيه حتى تضع وصح نكاح الموطوءة بملك او الموطوءة بزنا الخ (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتارباب المحرمات ص۴۰۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۸). ظفير

سره صحيح ده. [۱]

ديوې ښځې ښځه ئې لمسى دى نو آيا دده واده ددويمې ښځې ښځه چې كم لمسى دى دهغه دلورسره ئې نكاح جائز ده اوكه نه؟ **سوال:** (۲۴۷) دزيد ددوو ښځو ښځه دوه زامن دى عمر او بكر او دعمر زوى خالد دى او دبكر زوى محمود دى او دمحمود لور ده هنده نو دهندې سره خالد نكاح كولى سى اوكه نه؟

جواب: په دې صورت كي دخالد نكاح دهندې سره صحيح او جائز ده. [۲]

دميريزى ماما سره نكاح صحيح ده اوكه نه؟ **سوال:** (۲۴۸) دزيد دمخكنۍ ميريزى ښځې ښځه يوه لور ده نو ددى زيد ددويمې ښځې دورور سره عقد كيدى سى اوكه نه ځكه چه دى دانجلۍ ميريزي ماما دى؟

جواب: په حقيقت كي ددويمې ښځې ورور دمخكنۍ ښځې دلور ماما نه دى، نو عقد كيدى سى. [۳]

دنكاح دبدلون وعده وسوه يوه نكاح وسوه او بله نه څه حكم دى؟ **سوال:** (۲۴۹) دوو كسانو په خپل مينځ كي وعده وكړه چه هر يو دبل دزوى سره نكاح كوى نو په دې دوو نكاحونو كي يوه نكاح وسوه او بله پاتى ده اوس دغه دوه سړيان مړه سول نو اولياء ددويمې انجلۍ ددى انجلۍ په وركولو انكاريان دى نو مخكنۍ نكاح معلقه سوه اوكه نه؟ اولياء دهلك وائي چي نكاح باقى ده او صحيح ده، دشريعت څه حكم دى؟

جواب: داصحيح ده چه يوه نكاح منعقده سوه اودبلې نكاح اختيار دانجلۍ واولياؤته دى كه مصلحت ورته ښكارى خو دويمه نكاح به هم وكړى كنې نه. ([۴])

په مسئوله صورت كي نكاح صحيح ده: **سوال:** (۲۵۰) حبيب زوى د دوايه او بډو زوى دنوبت مور دحبيب او دبډو يوه ده او دېټ چه دبډو دپلار دطرفه ورور دى دحبيب دلور سره نكاح كولى سى اوكه نه؟

جواب: كه دډېټ موربيله يعنى هغه نه وى كمه چه دحبيب اودبډو ده نونكاح دډېټ دحبيب

---

[۱] وجه دحرمت يې نسته: او په: واحل لكم ماوراء ذلكم كى داخله ده. ظفير


[۲] لكه چه څنګه داكا دلور سره نكاح صحيح ده نو دلمسى سره ئى هم صحيح ده. ظفير

[۳] وجه دحرمت نسته ، په: احل لكم ما وراء ذلكم كي داخل دى. ظفير

([۴]). دسوال او جواب حاصل دادي چي دوو كسانو په خپل مينځ كي داصلاح سره وكړه چي يوبه وهغه بل ته خپله لور وركوي او دابل به يې ودې بل ته وركوي، په دوى كي يوه نكاح وكړه بيا دواړه مړه سوه، ددې بل ولي اوس تيار نه دى چي خپله انجلۍ دهغه بل يوه وكورنۍ ته وركړي نو آيا لومړنۍ نكاح وسوه اوكه نه؟ جواب يې دادى چي لومړنۍ نكاح صحيح سوه، دوهمه دولي په اختيار كي ده كه يې وكړي نوجائز ده اوكه يې نه كوي نو څوك يې شرعاً نه سي مجبوره كولى. ظفير

دلور سره صحيح ده كما فى الدر المختار تحل اخت اخيه رضا الخ وكذا نسبا بان يكون اخاه لابيه واخت لام. [1]

او نقشه دنسب په صورت مسئوله كي دا ده:



ددي نقش موافق ډيټ دلور نكاح دحبيب سره صحيح ده.

دتبرائي شيعه ښځه كه مسلمانه سي نو هغه دويمه نكاح كولي سي: **سوال**: (۲۵۱) ديوه خاوند اولاد اوښځه پرشيعه مذهب دي او خاوند ئي هم شيعه دی خو ددی خاوند دا دډيری مودی څخه همداسی پرې ايښی ده او دا ښځه دخپل پلار پركور اوسيږی او ښځی دمهر دعوه كړيده او ډگری ئی هم حاصله كړيده او ددی خاوند دويم واده كړيدی اوس دا ښځه خپله نكاح دسنی سره كول غواړی اوپه خپله هم سنی كيدل غواړی په دې صورت كي ددی ښځی دسنی سره نكاح جائز ده اوكه نه؟

جواب: كه خاوند ددی تبرائی شيعه وی او سب دشيخينو ﷺ او پرحضرت عائشه صديقه ﷺ باندی تهمت لگوی اودافك قائل وی نودی كافر دی [2] ښځه كه سنيه سی نو دعدې څخه وروسته بل خاوند ورته جائز دی. [3]

دآزادي ښځی اخيستل او خرڅول صحيح نه دی نكاح كولی سی: **سوال**: (۲۵۳) عيسی نومی سړی دمحمد عالم نومي شخص څخه يوه ښځه په نيت دنكاح په شل ۲۰ روپی واخيسته، ددی ښځی مورهم ورسره وه هغې وويل چه زما دلور دخاوند يو كال وسو چه مړ سويدی بائع عالم هم دخاوند دمړ كيدو گواهی وركړه دعالم كشر ورور وائی چه ژوندی دی، ايا دا نكاح صحيح ده اوكه نه؟ كه مخكنی خاوند ژوندی وی نو په عالم باندي څه تعزير كيدل پكار دی؟

جواب: دازادی ښځی اخيستل باطل دی او عيسی ته كه غالب گمان ددغه مور او دعالم

---

[1] الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الرضاع ص۵۲۱ ج۲ ط.س ج۳ ص۲۱۷. ظفير

[2] وبهذا ظهر ان الرافضي ان كان ممن يعتقد الالوهية فی علي او ان جبريل غلط في الوحي او كان ينكر صحبة الصديق او يقذف السيدة الصديقه فهو كافر لمخالفة القواطع المعلومة من الدين بالضرورة (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴۲. ظفير

[3] ولو اسلم احدهما ای احد المجوسيين او امرأة الكتابی ثمه ای فی دار الحرب الخ لم تبن حتى تحيض ثلاثا او تمضی ثلاثة اشهر. در مختار. ای ان كانت لا تحيض لصغر او كبر كما فی البحر وان كانت حاملا فحتی تضع حملها (ردالمحتار باب نكاح الكافر ص۵۳۲ - ۵۳۷ ج۲ ط.س. ج۳ ص ۱۹۱. ظفير

[۱] دصدق وی نو ددوی دقول او دبیان مطابق نکاح ددغه ښځی سره کولی سی او دشبه په موقع احتراز ښه وی او دفتوی په طریقه نکاح کول صحیح دی [۲] بیا که دنکاح څخه وروسته معلومه سی چي خاند خو نه مړ وو اونه ئی طلاق ورکړی دی او عالم وغیره قصدا او دروغ ویلی وه نو گناهگار او فاسق دی او دعیسی روپی به په هر حال ورواپس کوی که رشتونی وی اوکه دروغجن.

دښځی په وجود کي دښځی دمړه زوی دښځی سره نکاح کول څنگه دي؟ سوال: (۲۵۳) زید وفات سو ښځه هنده او زوی عمر ورڅخه پاته سوه، هندې دبکر سره نکاح وکړه او دعمر مذکور نکاح دحلیمه سره وسوه بیا عمر وفات سو نو دده ښځه دبکر سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ سره ددی چه دعمر مور هم دبکر په نکاح کي ده.

جواب: دخپلی ښځی دهغه زوی چه دبل خاوند څخه دی دښځی نکاح کول جائز دی سره ددی چه دده مور دده په نکاح کي ده یعنی جمع کول دښځی او دښځی دزوی ددی ښځی په یوه نکاح کي جائز دی لعموم قوله تعالی: واحل لکم ما وراء ذلکم الایه، او په درمختار کي دی: فجاز الجمع بین امرأة وابن زوجها وامرأة ابنها الخ. [۳]

دښځی دمرگ څخه وروسته خاوند دښځی دخورزي سره نکاح کولی سي اوکه نه؟ سوال: (۲۵۴) زینب او هنده دواړه سکه خویندی دی دهنده دوفات څخه وروسته دزینب دلور سره دهنده خاوند نکاح کولی سی اوکه نه؟ ایا دا صحیح ده چه حضرت علی ﷺ دفاطمه ﷺ دوفات څخه وروسته دحضرت عثمان ﷺ دلور سره نکاح کړی وه؟

جواب: دهنده دمرگ څخه وروسته ددی خاوند دهنده دخورزی سره یعنی دزینب دلور سره نکاح کولی سی لکه چه باری تعالی فرمائی: واحل لکم ما وراء ذلکم الایه [۴] او دحضرت علي ﷺ نکاح دحضرت عثمان ﷺ دلور سره هیچیري ترنظر نه ده تیره شوي.

دعیسائی ښځی سره نکاح صحیح ده اگر چه نبی کریم ﷺ نه مني: سوال: (۲۵۵) زید وائی چه یوه مسلمان سړی دعیسائی ښځی سره چه نبی کریم ﷺ په حقه پیغمبر نه منی نکاح کولی سی اوعمر وائی چه ترڅو عیسائی ښځه نبي اکرم ﷺ رسول ونه منی نو نکاح کول

---

[۱] اذا کان احد العوضین اوکلاهما محرما فالبیع فاسد کالبیع بالمیت والدم الخ وکذا اذاکان غیر مملوك کالحر (هدایه باب البیع الفاسد ص۴۹ ج۳، ردالمحتار ط.س. ج۳ ص۵۲۹). ظفیر

[۲] وفیه عن الجوهرة اخبرها ثقة ان زوجها الغائب مات او طلقها ثلاثا او اتاها منه کتاب علي ید ثقة بالطلاق ان اکبر رائهما انه حق فلا باس ان تعتد وتتزوج ولو قالت امرأة لرجل طلقني زوجي وانقضت عدتي اناس ان ینکحها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ص۸۴۷ ج۲). ظفیر

[۳] الدر المختار علی هامش رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲ ط.س. ج۳ ص۳۹. ظفیر

[۴] سورة النساء: ۲۴.

ورسره حرام دی نو آیا زید پرحق دی اوکه عمر؟

جواب: په در مختار کي دی: وصح نکاح کتابية وان کره تنزيها مومنة بنبی مرسل مقرة بکتاب منزل وان اعتقد المسيح الها الخ وفی الشامی قال البحر وحاصله ان المذهب الاطلاق لما ذکره شمس الائمة في المبسوط من ان ذبيحة النصراني حلال مطلقا سواء قال بثالث ثلاثه او لا لاطلاق الکتاب الخ [1] نو دزيد قول په دی باره کي صحيح دی.

په صورت مذکوره کي دنور الدين نکاح صحيح ده او دميرزا دا صحيح نه ده: سوال: (۲۵۶) بکر دخپلی لور نوران نکاح دزيد سره وکړه څه موده وروسته زيد مرتد سو او بيا مسلمان سو اوبکر په زيد او نوران کي اتفاق وکړی خو تجديد دنکاح ونه سو، نور الدين په دوه سوه روپی نکاح وکړه داسی چه په کمه ورځ يې طلاق نامه وليکل سوه په دويمه ورځ نکاح او و اده وسو، ځکه چه زيد مرتد سو او بيا دمسلمانيدو څخه پس ئی تر څلورو پنځو مياشتو پوری تجديد دنکاح ونه کړی نو ايا دنور الدين نکاح دنوران سره وسوه اوکه نه؟ اوپه دې حالت کي چه دنور الدين دا نکاح دنوران سره وه دزيد دطلاق نامې څخه څلور نيمی مياشتي وروسته خالد مرزا دا ذريعه جوړه کړه چه دنوران دزيد سره دفسخ نکاح معياد اوس تير سو مرزا نوران په خپله نکاح کي واخيسته، دمرزا سره دنوران نکاح دبکر، خالد مرزا او خالد دزوی اونورو په امداد سره وسوه نو پردی خلګو څه شرعی حکم واقع کيدی سی او که نه؟

جواب: په دی صورت کي دنور الدين نکاح دنوران سره صحيح ده ځکه چه دزيد نکاح دنوران سره دهغه په مرتد کيدو ختمه سوه [2] اګرچه طلاق نامه وروسته ليکل سويده ددی اعتبار نسته نودمرزا نکاح دنوران سره منعقده نه سوه او ددی نکاح په کولو کي امداد کونکی ګنهګار دی توبه دی وکړی او مرزا او نوران دی يو له بله جلا کړی.

دمسلمانی انجلی، واده جائز دی ددی مور دغير مسلم سره په اوسيدو باندی کافره نه سوه او توبه دی وکړی: سوال: (۲۵۷) يوه ښځه چي جولاهن نوميږي دډاری نيچ قوم ديو سړي سره ئی ناجائز تعلق پيدا کړی تردی چی آن دهغه سره په کورکي وه او دهغه سړي څخه ئی دوې لورګانی پيدا سوی دمشری لور سره ئی يو مسلمان نکاح وکړه دلور دمور کره په تلو راتلو خواوشا تمام مسلمانان ناخوښه دی او دی ئی داسلام ددائری څخه ايستلی دی آياداسړی سره دښځی اودخواښی مسلمان کيدی سی اودوباره به نکاح کوی اوکه نه؟

---

[1] رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۹۷ – ۳۹۸ ج۲، ط.س. ج۳ ص۴۵ ۰ . ۱۲ ظفير

[2] وارتدا او احدهما ای احد الزوجين فسخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ص۵۳۹ ج۲ ط.س. ج۳ ص۱۹۳). ظفير

جواب: چه دغه انجیلی مسلمانه وه نو دمسلمان سره ئی نکاح صحیح او دمور کره په تلو راتلو داسلام څخه نه خارجیږی او جولاهن ښځه هم دیوه کافر سره په ناجائز تعلق نه کافره کیږی بلکه ګنهګاره او فاسقه ده دګناه څخه دی توبه وکړی او دوباره نکاح ته ضرورت نسته اوکه احتیاطا تجدید اسلام او نکاح کوی نو ښه خبره ده.

دنکاح څخه وروسته دخاوند څخه په انکار سره په نکاح کي فرق نه را ځی: **سوال**: (۲۵۸) زید دخپلی لور نکاح ددی په اجازت دبکر سره وکړه دشاهدانو په وړاندی بکر قبوله کړه چه خبره مشهوره سوه نو چه چا پوښتنه وکړه او ده ته ئی مبارکی ورکړه چه نکاح دی وسوه نو بکر په جواب کي وویل چه په خدای او په رسول می دی قسم وی دچا نکاح وسوه یا دکم سور دا وسوه، په دی صورت کي شرعاً په نکاح کي څه خرابي خو نه ده راغلی.

جواب: هیڅ خرابی په دی نکاح کي نه ده راغلی.

دزاني وغیره داولاد نکاح دمزنیی وغیره داولاد سره صحیح ده: **سوال**: (۲۵۹) دزاني او دصاحب او دناظر وغیره داولاد نکاح دمزینه، مموسه، منظوره داولاد سره شرعا جائز ده اوکه نه؟ او په مصاهرت دزنا او ددواعی دزنا سره ماسوا دحرمات اربعه څخه چه اصول او فروع دی چه متحقق دي په فقه کی حرمت دنور په آن ددی مطلوب صورت ثابت دی اوکه نه؟

جواب: قال في الامي قال في البحر اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرم المرأة علي اصول الزاني وفروعه نسبا ورضاعاوحرمة اصولها وفروعها علي الزاني نسبا ورضاعا كما في الوطي الحلال ويحل لاصول الزاني وفروعه اصول المزني بها وفروعها الخ [۱]، ددی اخری عبارت څخه دصورت مذكوره فی السوال حلالوالی ثابتیږی اوقائل په حرمت ددی لا ریب محرم دما احل الله دی اګرچه ده ته كافر ویل ښه نه دی ځكه چه تحریم دحلالو یا تحلیل دحرامو مطلقا كفر نه دی كما حققه الشامی. [۲]

دپیر څخه پرده فرض ده او دناسكه زوم سره نكاح صحیح ده: **سوال**: (۲۶۰) یوه كونډه ځوانه ښځه دغیر شرعی پیر كور ته ځی ددی وارث غواړی چه په كفو كي ددی نكاح وكړی چه ددی كار څخه منع سی اوس دا ښځه هسی دنكاح څخه انكار كوی نو څه حكم دی دناسكه زوم سره نكاح كیدی سی اوكه نه؟

---

[۱] ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۸۴ ج۲ ط. س. ج۳ ص۳۲. ظفیر

[۲] الحاصل انهم يصدق عليهم اسم الزنديق والمنافق والملحد ولايخفى ان اقرارهم بالشهادتين مع هذا الاعتقاد الخبيث لا يجعلهم فى حكم المرتد (ردالمحتار باب المرتد ط. س. ج۳ ص ۲۴۴). ظفیر

جواب: دپیر څخه پرده کول فرض دی او که یو سړی فاسق او فاجر وی نو دهغه څخه بیعت کول هم صحیح نه دی، او دکونډی سره دویمه نکاح کول سنت دی او ثواب دی دویمه نکاح بده او معیوبه ګڼل ګناه ده او دشرعي خلاف ده نو ښځی لره دوهمه نکاح کول پکار دی او دناسکه زوم سره نکاح صحیح ده. [1]

دطلاقي سوی ښځی واده دعدي څخه وروسته دبل سره صحیح دی اګر چه دی بل ورسره مخکي زنا کړي وي: **سوال**: (۲۲۱) زید دخالد دماما زوی کیږی اورشته دار ئی دی هنده دخالد منکوحه ده چه دخالد سره په کورنۍ معامله کي ورانه ده یعني چه دخالد څخه به خفه وه نو دزید سره به ئی ګډون کوی او دقبیح فعل مرتکبه به سوه اوس که خالد دهندي سره په یوصورت قطع تعلق وکړی یا هنده دزید څخه ځان خلاص کړی نو په دې صورت کي زید ته ددې سره دنکاح اجازت سته زید شرعاً دکمی سزا مستحق دی مخکی دعقد څخه چه دی دکومو غلطیو مرتکب سو وروسته دعقد څخه به دا معاف سی اوکه ددې به عذاب وی چه په ظاهره زید دخالد دکور ورانولو سبب سو اګر چه هنده دخالد څخه خفه وه او دحقوق العباد په لحاظ سره دی څنګه خالد راضی کولی سی؟

جواب: ښځه چه کله دخپل خاوند خالد څخه جلا سی یعنی خالد طلاق ورلره ورکړی په هری طریقی سره چه وی نو زید لره دهندي سره دهندي دعدې څخه وروسته نکاح کول صحیح دی چه کم کارونه دزید څخه مخکي سوی دی کم چه دشریعت څخه خلاف دی نو توبه دی وباسی په توبه سره ګناهونه معاف کیږی او چه په هندي او خالد کي دوړاندی څخه ناوړه تعلقات وه او بیا دهنده تعلق دزید سره سو او ده ته ئی رغبت سو نو په دې حالت کي په هنده او خالد کي بیلتون بهتر وو او دزید څخه چه څه زیاتی په دی باره کي سوی وی یا ئی هنده دخالد څخه په جلا کولو رضا کړی وی دا سخته ګناه ده ددې څخه دی توبه کړی او دباری تعالی څخه دی معافی وغواړی او استغفار دی وغواړی او دخالد څخه دمعاف کولو صورت ئی دادی چه بالاجهال دی دده څخه معافی وغواړی یعني داسي دي ورته ووایي چه که ما ستا په حق کي څه زیاتی کړی وی نو هغه راته معاف کړه.

ښځه ووایي چه زما نکاح دچا سره نه ده سوی دفلاني سره مي په نکاح کړئ نو داسي کول صحیح دي: **سوال**: (۲۲۲) یوه مسلمان دبل ملك څخه یوه ځوانه ښځه راوستله قاضی بی تحقیق کولو دپخوانی نکاح دیوه بل سړی سره نکاح وروکړه نوڅه حکم دی؟

---

[1] په دې کي دنکاح دحرام والي څه وجه نسته نوددغه وجهي څخه په: احل لکم ما وراء ذلکم (النساء : ۲۴) کي داخل دي. ظفير

جواب: چه ښځه دابیان وکړی چه زه دچا منکوحه نه یم یا کونډه یم نو ددی دقول موافق ددی نکاح کولو ته په کتابونو دفقه کي صحیح ویل سوی دی. [۱]

دحامله عن الغیر سره دنکاح کولو او دوطی کولو څه حکم دی؟ سوال: (۲۲۳) دنکاح څخه وروسته چه دا ثابته سی چه ښځه بدکرداره ده او نکاح پرقاعده دشریعت موافقه وی نو په داسی حالت کي دا نکاح صحیح سوه اوکه نه ددوباره نکاح ضرورت به وی او که نه؟ ښځی ته حرام حمل دی ترشپږو میاشو په وخت دنکاح کي دحمل تر پیدا کیدو پوری خاوند لره دښځی سره کوروالی جائز دی اوکه نه او چه ددې څخه کم اولاد وسی هغه به ولد الحرام وی اوکه نه؟

جواب: په دې حالت کي نکاح صحیح ده ددوباره نکاح ضرورت نسته دحمل ترپیدا کیدو پوری ددی سره کور والی نه دی پکار اوچه کم ماشوم دنکاح څخه وروسته دشپږو میاشتو څخه وړاندی وړاندی پیدا سو نو هغه به ددي خاوند څخه نه وی او ولد الحرام به وی اوچه کم دشپږو میاشتو څخه وروسته وی نو هغه به ددی خاوند څخه وی او صحیح النسب به وي. [۲] فقط

دزانیه منکوحه دلورسره دزانی دزوی نکاح صحیح ده: سوال: (۲۲۴) زید دهنده سره چه منکوحه دعمر ده زنا کړیده نو ددې څخه انجلۍ پیدا سوه اوس دزید زوی دهنده دلورسره نکاح کولی سی اوکه نه؟ په حرمت مصاهرت کي داخل دی اوکه نه؟

جواب: دعمر دمنکوحې داولاد نسب شرعا دعمر څخه ثابت دی او دا دعمر لور ده نو دزید دزوی نکاح دعمر دلور سره صحیح ده قال علیه السلام الولد للفراش وللعاهر الحجر . فقط [۳]

دورور دکونډې سره نکاح صحیح ده او ددی دلور سره دخپل زوی نکاح کولی سی په دواړو کي چه کم یو وغواړی مخکي دی کړی: سوال: (۲۲۵) بکر مړ سو دده ښځه او یوه لور ده او دبکر سکه ورور حبیب الله دی او دحبیب الله زوی دی اودبکر ښځه دعدې دورځو څخه وروسته دحبیب الله سره نکاح کول غواړي نو پوښتنه دا کوو چه اول دبکر دلور

---

[۱] وحل نکاح من قالت طلقنی زوجی اونقضت عدتی الخ ان وقع فی قلبه صدقها (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الحظر والاباحة ص۳۷۱ ج۵ ط.س. ج۳ ص۴۲۰). ظفیر

[۲] وصح نکاح حبلی من زنا لا حبلی من غیره ای الزنا لثبوت نسبه الخ وان حرم وطؤها ودواعیه حتی تضع لئلا یسقی ماؤه زرع غیره الخ لو نکحها الزانی حل وطؤها اتفاقا والولد له (در مختار) ای ان جاءت بعد النکاح به لستة الشهر فلو لاقل من ستة اشهر من وقت النکاح لا یثبت النسب (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۱ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۴۸ و۴۹). ظفیر

[۳] مشکوة باب اللعان فصل اول ص۲۸۷ . ظفیر

نکاح ددغه حبیب الله دزوی سره وکړو اوکه اول دبکر دکونډې نکاح دحبیب الله سره کول پکار دی؟

جواب: دبکر متوفی دښځی نکاح دده دورور حبیب الله او دبکر دلور نکاح دحبیب الله دزوی سره صحیح ده فرق نه کوي چه که مخکی ددی ښځی نکاح وسی او که دلور نکاح ئی وسی دواړه صحیح دی. [1]

آیا دزانیي سره دزاني نکاح صحیح ده؟ سوال: دزنا کوونکي سړي یا زنا کوونکي ښځي نکاح دزانیې یا زاني سره یا محصن او محصني سره دحد لګولو څخه بغیرکیږي اوکه نه؟

جواب: جائز ده کما فی الدر المختار: او الموطوءة بزنا ای جاز نکاح من رأها تزنی الخ و اما قوله تعالی: الزانیة لا ینکحها الا زان او مشرك فمنسوخ بایة فانکحوا ما طاب لکم من النساء . فقط

دکافر منکوحه چه مسلمانه سی او شپږ میاشتي تیري سی نو واده کولی سی اوکه نه؟ سوال:

(۲۲۷) دکافر منکوحی اسلام قبول کړی او خاوند ئی دکفر څخه توبه کوونکی نه دی او دغه ښځه دشپږو میاشتو راهیسی بیله اوسیږی نو دا فی الحال دبل مسلمان سره نکاح کولی سی او که وروسته دعدې دتیریدو او ختمیدو څخه به ئی کوی؟

جواب: دیوه کافر ښځه چه اسلام ئی راوړی او ددې څخه وروسته پردی دری حیضه تیر سی نو دکافر خاوند دنکاح څخه ووتله او بیا ددی نکاح دامام صاحب دقول موافق دیوه مسلمان سره صحیح ده په در مختارکي دی: ولو اسلم احدهما الخ ثمه الخ لم تبن حتی تحیض ثلاثا اوتمضی ثلاثة اشهر الخ ولیست بعدة الخ [2] خو په شامی کي دی چه په دې کي اختلاف دی چه وروسته تردی بینونت پردی عدت لازم دی اوکه نه؟ صاحبین دوجوبِ عدت قائل دی کذا فی الشامی وجزم به الطحاوی ددوی درأی مطابق بیا ددری حیضو څخه وروسته نکاح ثانی کولی سی او همدا احوط دی [3] نو ودی کتل سی چه په دی شپږو میاشتوکي څوحیضونه راغلی وه که حیضونه ئی پوره سوی وه نوډیره ښه کنې باقی حیضونه دی پوره کړی او داپه دی صورت کي چه ددی حیض راځی او که حیض یې

---

[1] دا دواړه دمحرماتو څخه نه دي لهذا په واحل لکم ما وراء ذلکم (نساء : ۲۴) کي داخل دی، ولا باس ان یتزوج الرجل امرأة ویتزوج ابنه امها وبنتها لانه لامانع (البحرالرائق فصل فی المحرمات ص۱۰۵ ج۳ ط.س. ج۳ ص۹۸). ظ

[2] الدر المختار علی هامش رد المحتار باب نکاح الکافر ص۵۳۲ ج۲ ط. س. ج ۳ ص ۱۹. ظفیر

[3] وهل تجب العدة بعد مضی هذه المدة ان کانت المرأة حربیة فلا لانه لاعدة علی الحربیة وإن کانت هی المسلمة فخرجت الینا فتمت الحیض هنا فکذلك عند ابی حنیفة خلافا لهما الخ وجزم الطحاوی بوجوبها (در المختار باب نکاح الکافر ص۵۳۷ ج۲، ط. س. ج۳ ص ۱۹۲) . ظفیر

نه راتلی نو شپږ میاشتی ددواړو عدتونو دپاره کافی دی.

دیوه یا ددوو طلاقونو څخه وروسته بی له حلالې څخه نکاح صحیح ده ددریم څخه وروسته حلاله ضروري ده: **سوال:** (۲۶۸) زید هنده دهندو قوم څخه مسلمانه کړه او خپله ئی ورسره نکاح وکړه تر دری کاله پوری ورسره په نکاح کي وه اوبیا ئي طلاق ورکړی نو هندې خپل دېمتوب کسب اختیار کړی اوپه بازار کي کښېنستله، اوس اوه اته کاله وروسته هنده دوباره دزید سره عقد کول غو اړی آیا دزید سره دهنده نکاح صحیح ده او که نه؟

جواب: که دری طلاقه ئی ورکړی وی نو بی له حلالې څخه نکاح نسي کیدی او که یو یا دوه طلاقه ئی ورکړي وی نو بی دحلالي څخه نکاح کولی سی. [1] فقط

دنامرد سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ او بی طلاقه ښځه بله نکاح کولای سی اوکه نه؟ **سوال:** (۲۶۹) دنامرد سړی دیوې ښځی سره نکاح سویده دا جائزه ده اوکه نه؟ اوښځه بی طلاقه دده څخه جدا کیدی سي اوکه نه؟

جواب: نکاح صحیح ده [2] اوبی له طلاقه دخاوند بله نکاح نسی کولی کذا فی الدر المختار [3]. فقط

دیوه ورور دلمسي سره دبل ورور دزوی واده جائز دي: **سوال:** (۲۷۰) الهی بخش او شبراتی دوه سکه وروڼه دي دالهی بخش دسکه لمسۍ نکاح دشبراتی دزوی سره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دا نکاح جائز ده کما قال الله تعالی بعد المحرمات: واحل لکم ما وراء ذالکم، الایة [4]

په نابالغی کي انجلۍ دنکاح کولو بیان کوی او دبالغیدو څخه وروسته انکار کوی ددې نکاح صحیح ده اوکه نه؟ **سوال:** (۲۷۱) یوه انجلۍ یو سړی ته داتو کالو په عمر کي په لاس ورغله ددې څه قریب او وطن معلوم نه دی چه کله دې سړی دا انجلۍ کور ته راوستله

---

[1] وینکح مباینته بما دون الثلاث في العدة بعدها بالاجماع الخ ولا ینکح مطلقة من نکاح صحیح نافذ بها ای بالثلاث لوحرة الخ حتی یطأها غیره ولو الغیر مراهقا یجامع مثله بنکاح نافذ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الرجعة مطلب في العقد علی المبانة ص۷۳۸ ج۲. ط. س ج۳ ص ۴۰۹). ظفیر

[2] هو ای العنین من لا یقدر علی جماع فرج زوجته الخ اذا وجدت المرأة زوجها مجبوبا او مقطوع الذکر فقط او صغیرة جدا الخ فلیس لها الفرقة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العنین ص۸۱۵ ج۲ ط.س. ج۳ ص ۴۹۴). ظفیر

[3] واما منکوحة الغیر ومعتدته الخ فلم یقل احد بجوازه (رد المحتار ص۴۸۲ ج۲ ط.س. ج۳ ص۱۳۲). ظفیر

[4] سورة النساء : ۲۴.

دی به خپلو همزولو ته ویل چي زما دیوه سړی سره واده سوی وو کور دا نسی ښوولی چه دچا سره او هغه کم ځای دی اوس ددی عمر پنځلس یا شپاړس کاله دی او دمخکنی واده څخه انکار کوی او اوس دنکاح خواهش لری آیا ددی نکاح دیو نفر سره جائزه ده او که نه؟

جواب: که دا انجلۍ په دې وخت کي بالغه ده او پنځلس کاله یې پوره سوه او دبالغیدو په وخت کي دچا دمنکوحه کیدو څخه انکار کوی نوکه ددی رضامندی دکم سړی سره وی دهغه سره ددی نکاح صحیح ده. [1]

دمړی ښځی دترور سره نکاح صحیح ده: **سوال**: (۲۷۲) دخواښی دسکه خورسره نکاح جائز ده او که نه سره ددی چي ښځه ئی مړه سوی وی؟

جواب: په دی حالت کي چه مخکنۍ ښځه مړه سوی وی نو دخواښی دخور سره نکاح جائز ده. [2] فقط

دښځی دمرګ څخه وروسته دخوښینی سره نکاح صحیح ده که څه هم چه ددې زوی دانا شیدې څښلي وي: **سوال**: (۲۷۳) دیو سړی ښځه مړه سوه او یو تی رودونکی بچی ئی پرېښودی چه دخپلي انا (دمور دمور په شیدو وپالل سو بیا ددی ماشوم پلار دخپلی سکه خوښینی سره یعني ددې ماشوم دسکه خاله سره خپله نکاح وکړه نو آیا دا نکاح جائز ده او که نه؟

جواب: دخپلی ښځی دمرګ څخه وروسته ددی دحقیقی خور سره نکاح صحیح ده او دده ماشوم چه دخپلی انا شیدې وڅکلي نو په دی سره پرده دا خوښینه حرامه نه ده ځکه چه دا خوښینه دده د زوی رضاعی خور ده کما مر عن العالمگیری: ویجوز الخ وفی الدر المختار الا ام اخیه واخته الخ واخت ابنه وبنته الخ باب الرضاع . [3]

ددویمی ښځی دوررور نکاح دمخکنۍ ښځی دلور سره صحیح ده: **سوال**: (۲۷۴) دیوه سړی دوې ښځی دی او دمخکنی ښځی ئی دری لوڼي دی او ددویمی ښځی ئی بچی نسته اوس ددویمی ښځی یو سکه ورور دی دهغه دمخکنی ښځی دیوی لور سره نکاح صحیح ده او که نه؟

---

[1] فتنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضا ولی (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الولی ص۴۰۷ ج۲). ظفیر

[2] ولا یجمع بین المرأة وعمتها او خالتها الخ (هدایه فصل فی المحرمات ص۲۷۲ ج۲) دښځي دمړه کېدلو څخه وروسته دجماع صورت نه پاته کیږي ماتت امرأة له التزوج باختها بعد یوم من موتها (کتاب النکاح فصل في المحرمات ص۳۹۰ ج۲ ط.س. ج۳ ص ۳۸). ظفیر

[3] الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الرضاع ص۵۵۸ – ۵۵۹ ج۲، ط. س. ج۳ ص۲۱۴. ظفیر

جواب: ددويمی ښځی دورور نکاح دمخکنی ښځی ديوی لورسره صحيح ده په دې کي څه وجه دحرمت نسته قال الله تعالی بعد ذکر المحرمات: واحل لکم ما وراء ذ لکم، [۱] الاية.

بی نکاح ښځه دبل سړي سره نکاح کولای سی: **سوال**: (۲۷۵) يو سړی دخپل مشر ورور دمرګ څخه وروسته دهغه منکوحه په خپل کورکي په طور درواج وساتله دنکاح کيدل يا نه کيدل مشکوك دی څه موده وروسته دغه سړی دا ښځه دکور څخه وايستله او دڅلورو پنځو مياشتو راهيسی ددی دډوډی او دنفقی ئی هم جواب ورکړيدی او دا ئی پرې ښووله دی ورڅخه ولاړی، دا انجلۍ دمور اوپلار پرکور په سخت مصيبت کي ده او ددی سړی څخه ددې يوه دڅلورو مياشتو لور هم ده نه دغه سړی دی ښځی ته جامه او ډوډی ورکوی او نه ئی راغواړی او پخپله مفقود الخبر دی ايا دا ښځه دبل چا سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: که ددغه سړی ددی ښځی سره نکاح نه ده سوی نو بيا چه دچاسره غواړی نکاح ئی ضروری ده او بغير دنکاح څخه ددی ښځی پردغه سړی باندي نان او نفقه واجب ده او نه ئی دی دنکاح څخه بندولی سی اوکه نکاح سوی وی نو بيا چه ترڅو خاوند طلاق نه وی ورکړی او پردې باندی دعدت دری حيضه نه وی تير سوی نو ددی دوهمه نکاح صحيح نه ده [۲] او په نفقه ورکولو کي تفريق نه کيږی اوکه خاوند مفقود الخبر وی نو څلور کاله وروسته دی عده دوفات تيره کړی نو بيا دويمه نکاح کولای سی موافق دمذهب دامام مالك رحمه الله چه پردی احنافو هم فتوی ورکړيده کذا فی الشامی. [۳]

دنيکه دخاله دلمسی سره نکاح صحيح ده او دخوابنی د لورسره هم: **سوال**: (۲۷۶) دعبدالرزاق دنيکه دخاله دلمسۍ رحيم النساء سره دعبدالرزاق نکاح صحيح ده اوکه نه؟ او عبد الرزاق او رحيم النساء ديو بل دخوابنی اولاد هم دی ايا په دې دواړو صورتونو کي نکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: دعبد الرزاق نکاح درحيم النساء سره جائز او صحيح ده ددواړو رشتو سره نکاح

---

[۱] سورة النساء: ۲۴. ظفير

[۲] اما نکاح منکوحة الغير الخ فلم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (ردالمحتار باب المهر ص۴۸۲ ج۲ ط.س. ج۳ ص۱۳۲). ظفير

[۳] فلا ينکح عرسه ای المفقود غيره الخ ولا يفرق بينه وبينهما ولو بعد مضی اربع سنين خلافا لمالك (در مختار) فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة الوفاة بعد مضی اربع سنين الخ لو افتی به فی موضع الضرورة لا باس به علی ما اظن الخ وقد قال في البزازية الفتوی في زماننا علی قول مالك الخ (ردالمحتار کتاب المفقود ص۴۵۲ ج۳ ط.س. ج۴ ص۲۹۳. ط.س. ج۳ ص۳۸). ظفير

صحیح ده ځکه چه رحیم النساء دعبد الرزاق په محرماتو کي نه ده نو په: واحل ما وراء ذلکم، [1] کي داخله سوه.

دمړې ښځی دخور سره نکاح صحیح ده او دطلاقی سوی ښځی دخور سره نکاح دعدې څخه وروسته صحیح ده: سوال: (۲۷۷) دزید ښځه هنده مړه سوه یا ئي دې ته طلاق ورکړی نو په دی دواړو صورتونو کي دزید دهنده سکه خور سره بغیر دورځو دعدت تیرولو څخه نکاح کولی سی او که نه؟

جواب: دښځی پرمرګ باندی ددی دخور سره سمدستي هم نکاح صحیح ده ځکه چه پرسړی عده نسته او دطلاق ورکولو په صورت کي ترکم وخته پوري چه ددی عده نه وی تیره سوی ددی دخور سره نکاح صحیح نه ده دا دواړه صورتونه په کتابونو دفقه کي په تصریح سره ذکر دی په در مختار کي دي: وحرم الجمع بین المحارم نکاحا وعدة ولو من طلاق بائن [2] او په شامی کي دی: ماتت امرأة له التزوج اختها بعد یوم من موتها [3] الخ

نصرانی چه مسلمان سو دده نکاح دنصرانیې ښځي سره برقراره ده: سوال: (۲۷۸\۱) یو نصرانی اسلام قبول کړی دده نصرانیه ښځه په انګلستان کي ده هغه دا نومسلم کافر ګنی دده سره دښځی په شان ژوند تیرولو ته تیاره نه ده ددې نصرانیې دمسلم سره نکاح قائمه ده او که نه؟ اوپر نو مسلم باندی ددی نصرانیې ښځی حقوق واجب دی او که نه؟

دمځکنی نصرانیې ښځی په موجودیت کي د بلي ښځی سره نکاح صحیح ده: سوال: (۲۷۹/۲) یوې بلي نصرانیې دغه وخت اسلام قبول کړی چه کم وخت دغه نصرانی اسلام قبول کړی ددواړو نکاح وسوه دا نکاح دنصرانیې ښځی په وجود کي جائز ده او که نه؟

جواب: [۱-۲] دنصرانیې سره دمسلمان نکاح صحیح ده نوکه دنصرانیې خاوند مسلمان سو نو نکاح باقی ده په در مختار کي دی: ولو اسلم زوج الکتابیة ولو معالا فهی له الخ [4] او چه کله نکاح باقی ده نونفقه هم لازمه ده دکتابیې ښځي په وجود کي دبلي نو مسلمی نصرانیی سره نکاح صحیح ده په شرط ددی چه شرائط دجواز دنکاح موجود وی مثلا دا چه دا نو مسلمه ښځه دیوه نصرانی ښځه نه وی ځکه چه که دا دنصرانی ښځه وی نو اګر چه داسلام څخه وروسته دا دهغه ښځه پاته نه سوه خودی لره درې حیضه یا درې

---

[1] سورة النساء : ۲۴. ظفیر

[2] ایضا فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲ ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر

[3] رد المحتار کتاب النکاح فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲. ظفیر

[4] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ص۵۳۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۹۲. ظفیر

میاشتی تیرول دبلي نکاح دجواز دپاره شرط دی او داول خاوند څخه ئی پوره بینونت ددرو حیضو څخه وروسته کیږی کما فی الدر المختار: ولو اسلم احدهما ای المجوسین او امرأة الکتابي ثمه الخ لم تبن حتی تحیض ثلاثا او ثلاثة اشهر الخ [1] فقط

دمخکني خاوند دمرګ دخبر څخه وروسته نکاح صحیح ده خو چه کله دی بیا راسی نو ښځه به هم دده وی: **سوال**: (۲۸۰) دکنیز فاطمه بنت کریم الدین مرحوم نکاح ددی تره امام الدین په حالت دنابالغی کي دعبد الرزاق سره کړی وه خو رخصتی ونه سوه دنکاح څخه وروسته دی یوځای نوکری ته ولاړی دتللو څخه وروسته تر یوی میاشتی پوری خطونه راتلل ددې څخه وروسته ئی خط اوکتابت بند کړی ترڅلورو کالو پوری خبر دده دمرګ او ژوند نه وو ددې څخه وروسته دعبد الرزاق دمرګ خط راغی دخط دراتلو څخه وروسته کنیز فاطمه نکاح وکړه اوس ددوو درو میاشتو څخه وروسته عبد الرزاق راغی او غواړي چه دمذکوره ښځی سره یوځای سی، په دی صورت کي شرعاً څه حکم دی اوکمه نکاح جائز ده؟

جواب: دمخکني خاوند په مرګ چه کمه نکاح سویده هغه صحیح سوی وه ، ددی وجي څخه چه ددي څخه کم اولاد پیدا سی هغه به صحیح النسب وی او ددویم خاوند څخه به وی خو چه کله مخکنی خاوند واپس راغی او دمرګ خبر غلط سو نو دی به خپله ښځه واخلی دده نکاح قائمه ده او دده په راتلو به ددویمی نکاح دفسخ حکم ولګول سی، کما فی الشامی: لکن لو عاد حیا بعد الحکم بموت اقرانه قال الظاهر انه کالمیت اذا احی والمرتد اذا اسلم الخ ثم قال بعد رقمه رأیت المرحوم ابا السعود نقله عن الشیخ شاهین ونقل ان زوجته له والاولاد للثانی [2] الخ فقط.

ښځه موجوده وی او ددی دپلار ددویمی ښځی سره واده کول څنګه دی؟ سوال: (۲۸۱) دزید دوې ښځی دی فاطمه او زینب دفاطمی څخه دزید یوه لور ده دغه انجلۍ خالد ته واده وه څه موده وروسته زید مړ سو په دې صورت کي خالد دزینب سره چه دده دماما لور هم ده نکاح کولای سی اوکه نه؟

جواب: دخالد نکاح په دی صورت کي دزینب سره صحیح ده، کما فی الدر المختار: فجاز الجمع بین امرأة وزوجها . [3]

دکونډې سره ئی نکاح وکړه شپږ میاشتي وروسته بچی وسو نو نکاح جائز ده اوکه نه؟ سوال:

---

[1] ایضا ص ۵۳۲ - ۵۳۷ ج۲ ط.س. ج۳ ص۱۹۲. ظفیر
[2] رد المحتار کتاب المفقود ص۴۵۸ ج۳ ط.س. ج۳ ص۲۹۷. ظفیر
[3] الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲ ط.س. ج۳ ص۳۹. ظفیر

(۲۸۲) یوه ښځه دېرې مودې راهیسی کونډه ده زید ددې سره نکاح وکړه او دا ښځه حامله وه شپږ میاشتې وروسته بچی پیدا سو دزید خاندان والا دا ښځه دده څخه جلا کړه چه دهغې موده یو کال وسوه اوس دا ښځه دزید په کورکي اوسیدل غواړي او زید ئې هم ساتل غواړي نو هغه مخکنې نکاح جائز پاته ده اوکه دوباره به نکاح کول غواړي؟

جواب: مخکنی نکاح صحیح ده ددوباره نکاح ضرورت نسته. [1] فقط

په دوو طلاقو دطلاقي سوي ښځي سره بې حلالې نکاح جائز ده: **سوال**: (۲۸۳) یوه سړي اول خپلې ښځې ته طلاق رجعی ورکړی پنځه شپږ میاشتې وروسته یې ددې سره نکاح وکړه څه موده وروسته بیا په وجه دعدم موافقت ښځې ته ئې وویل چه تاته اول ما طلاق رجعی درکړی وو اوس درته یو طلاق بل درکوم په دوو طلاقو بائنه سوې ته ولاړه سه، اوس څه نهه یا لس میاشتې وروسته ئې بیا په نکاح کي راولی آیا دمخکنی خاوند دپاره بې حلالې جائز ده؟

جواب: بې حلالې مخکنی خاوند ددې طلاقې سوې ښځې سره نکاح کولی سی، کذا في الدرالمختار وغیره. [2]

دلور نکاح دښځې دزوی سره کول څنګه ده؟

دلور نکاح دښځې دزوی سره کول څنګه دي؟ سوال: (۲۸۴) زید دخپلې لور چه دمخکنی ښځې څخه ئې ده دخپلې دوهمې ښځې دزوی سره نکاح کوی چه دمخکنی خاوند څخه ئې دی شرعا دا صحیح دی اوکه نه؟

جواب: جائز ده لقوله تعالی واحل لکم ما وراء ذلکم، [3] الایة . فقط

دښځې دخورزې سره دښځې دمرګ څخه وروسته نکاح کول جائز دي: **سوال**: (۲۸۵) آیا حضرت علی رضي الله عنه دحضرت فاطمې رضي الله عنها خورزه وروسته دوفات دحضرت فاطمې رضي الله عنها څخه په عقد کي راوستلی وه دا یوه تاریخی واقعه ده ایا دا شرعا جائز دی اوکه نه؟ ایا دښځې خورزه په محرماتو ابدیه کي ده اوکه نه؟

جواب: دخپلې ښځې دمرګ څخه وروسته دښځې دخورزې سره نکاح کول صحیح دی او دا په محرماتو ابدیه ؤ که نه ده، صرف جمع کول دخوابنې اودخورزې په نکاح کي ناجائز

---

[1] وصح نکاح حبلی من زنا الخ وان حرم وطؤها ودواعیه حتی تضع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۴۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص۴۸. ظفیر

[2] واذا کان الطلاق بائنا دون الثلث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها (هدایه باب الرجعة فصل فیما تحل به المطلقة ص۳۷۸ ج۲ ط.س. ج۳ ص ۴۸. ظفیر

[3] سورة النساء : ۲۴، ولا باس ان یتزوج الرجل امراة ویتزوج ابنه امها او بنتها لانه لا مانع (البحر الرائق کتاب النکاح فصل فی المحرمات ص ۱۰۵ ج۳ ط. س. ج۳ ص۹۸). ظفیر

دی [1] او یو چه پکښې باقي پاتې نه سي نو دبلی سره نکاح صحیحه ده نوکه حضرت علی ﷺ داسې کړی وی نو شرعا څه پروا ورباندې نسته او په: واحل لکم ما وراء ذلکم کي داخل دي.[2] فقط

چه ښځه ووايي زما نکاح نه ده سوی نو ددی سره نکاح صحيح ده: **سوال**: (۲۸۲) که یوه ښځه بیان ورکوی چه زما ترننه پوری نکاح نه ده سوی دهیڅ چا سره، او دا ښځه دبل وطن څخه راغلی ده چه دهغی دوجه څخه قاضی ته څه حال نه سی معلومیدی نو اوس ددی ښځی دچا سره نکاح کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: جائز دی. [3] فقط

دخاوند دمرګ ثابتيدو څخه وروسته ښځه بل واده کولی سی: **سوال**: (۲۸۷) یوه ښځه کریمه بنت علی محمد چه دهغی واده دننها سره سوی وو داوو کالو راهیسي هغه بی درکه دی او دا زما سکه خورزه ده اوس دانجلی عمر اتلس کاله دی ایا دویم عقد کولای سی او که نه؟ دالهی بخش او ارنګئ داهل محلهؤ دهندوانو او دمسلمانانو دزبانی او دتحریری بیانونو څخه دا واضحه ده چه ذکر سوی ننها په دریاب کي ډوب سوی دی او وفات سوی دی او مدعی علی محمد الهی بخش مذکور ته په تحریر سره اجازت دعقد ورکوی؟

جواب: چه دمذکوره ننها مرګ ثابت سو نو دمرګ څخه وروسته دي دده ښځه عدت دوفات یعنی لس ورځی او څلور میاشتی پوره کړی نو بله نکاح کولی سی. [4]

دزانیه لور چه دفلانی څخه ئی پیدا کیدل ثابت نه دي نو دده دلمسی سره دزانیه دلور واده صحیح دي: **سوال**: (۲۸۸) دأدهار سنګ ټاکور دیوې ډمی سره ناجائز تعلقات وه او ددی ډمی څو لوڼي دی خو دا معلومه نه ده چي دأدهار سنګ څخه دی اوکه دبل چا څخه دی، دأدهار سنګ دمرګ څخه وروسته دأدهار سنګ دلمسی او ددغه مذکوره ډمی دلور ناجائز تعلق سو اوس دواړه پرلار سوی دی دډمی لور توبه کړیده او دأدهار سنګ لمسی مسلمانیږی نو ددواړو نکاح په خپل مینځ کي صحیح ده اوکه نه؟

---

[1] ولا يجمع بين المرأة وعمتها او خالتها الخ (هدايه فصل في المحرمات ص۲۸۸ ج۳). ظفير

[2] سورة النسآء : ۲۴ .

[3] قالت امرأة لرجل طلقنى زوجي وانقضت عدتي لاباس ان ينكحها (الدر المختار على هامش رد المحتار باب العدة ص۸۴۷، ج۲ ، ط. س. ج۳ ص ۵۲۹) ځکه نوچي کله دښادي نه کولو خبر ورکړي نوپه درجه اولی سره به يې خبره منل کيږي. ظفير

[4] أخبرها ثقة ان زوجها الغائب مات او طلقها ثلاثا او اتاها منه كتاب على يد ثقة بالطلاق ان اكبر رائها انه حق فلا باس ان تعتدوا بتزوج (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدة ص۸۴۷ ج۲ ط.س. ج۳ ص ۵۲۹). ظ

جواب: چه کله دډمی دلور دأدهار سنگ دنطفی څخه کېدل ثابت نه دی نو دأدهار سنگ دلمسی نکاح دډمی دلور سره ددواړو دمسلمانیدو څخه وروسته صحیح ده. [1]

دشرمګاه جوړولو والا یو سړی که نکاح وکړي نو څه حکم دي؟ سوال: (۲۸۹) دغه وخت دزید عمر دشپیته کاله څخه زیات دی او ددیرشو کالو راهیسی په پښو شل دی او شهوت ئی هم ختم دی خو دزید دصحت په وخت کي دزنا کاری بد عادتی وه دشهوت نه کیدو سره سره ئي هم خپل بد عادت نه پرېښووی دیوه بل صورت څخه یې دمتیازو شرمګاه جوړه کړه او ددی سره به ئی بدکاری کوله دڅو کالو څخه وروسته یې ددې بیماری په حالت کي دیوې ښځی سره نکاح وکړه آیا دا نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: نکاح به یې صحیح سی خو دا حرکت دزید حرام او ناجائز دی، او دګناه کبیره دارتکاب دوجه څخه فاسق او مردود الشهادت دی. [2]

دښځی په بیان باندي واده صحیح دي اوکه نه؟ سوال: (۲۹۰) یوه ښځه بیان ورکوي چه زما خاوند ماته طلاق راکړیدی او ددي ښځي مور او پلار هم دا بیان ورکوي لیکن ددي ښځي دخاوند هیڅ درك نه لګیږي چه هغه څنګه او چیری دی چه ددي ښځي دخبرې تصدیق ورڅخه وسي په دي صورت کي ددې ښځي دبیان مطابق ددې سره نکاح کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: په داسی صورت کي چه دغه ښځه او ددی مور او پلار ددی دمخکنی خاوند دطلاق ورکول بیانوی او دخاوند ئی هم هیڅ پته نسته چه دده څخه یې تصدیق یا تکذیب وسی نو فقهاء لیکی چه په داسی حالت کي ددی نکاح ددی په بیان صحیح ده نورو کلیوالو لره په دې کي څه اعتراض او انکار نه دی کول پکار. [3]

دنکاح څخه وروسته معلومه سوه چه دانجلۍ په ګېډه کي ناجائز حمل وو نکاح وسوه اوکه نه؟ سوال: (۲۹۱) یو سړی دیوی ښځی سره نکاح وکړه وروسته دڅلورو یا دپنځو میاشتو څخه یوه انجلۍ پیدا سوه خو دادنهو میاشتوڅخه دکمی مودی وه نو ددی نکاح جائزه پاته سوه اوکه نه؟ چه دا ښځه پرده داره نه وه نو ددی په اړه شرعی حکم څه دی؟

---

[1] ويحل لاصول الزاني وفروعه اصول المزني بها وفروعها (رد المحتار فصل في المحرمات ص۳۸۴ ج۲ ط.س. ج۳ ص۳۲). ظفير

[2] كه نكاح دشاهدانو په وړاندي او دښځي په رضا سره سوي وي نو بيا نكاح وسوه ولي چه ايجاب اوقبول او شرط سته: وينعقد بايجاب من احدهما وقبول من الاخر الخ وشرط سماع كل واحد من العاقدين وشرط حضور شاهدين الخ (الدرالمختار على هامش رد المحتار كتاب النكاح ص۳۲۱ - ۳۷۳ ج۲، ط.س. ج۳ ص۲۱). ظفير

[3] لوقالت امرأة لرجل طلقني زوجي وانقضت عدتي لا باس ان ينكحها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدة ص۸۴۷ ج۲ ط.س. ج۳ ص۵۲۹). ظفير

جواب: ددی سړی سره ددغه مذکوره ښځی نکاح صحیح سوه او په ده پسی لمونځ صحیح دی او ددی انجلۍ نسب شرعا دده څخه ثابت دی، په در مختار کي دي: چه دحامله عن الزنا سره نکاح صحیح ده اوکه دا حمل ددی ناکح څخه وی نو دنکاح څخه وروسته ورلره وطی هم صحیح دي اوکه حمل دبل چا وی نو دحمل تر زیږیدو پوری ولره وطی نه دي جائز، لئلا سیقی ماءه زرع غیره درمختار [1] او که دا سړی اقرار کوی دزنا ددی ښځی سره مخکی دنکاح څخه نو دی فاسق دی په خپل اقرار نو په ده پسی لمونځ مکروه دی خو که ده دګناه څخه توبه کړی وي نو دا مکروه والی پورته کیږي.

غیر مدخولي نابالغي ته دطلاق ورکولو څخه وروسته بیا ددی سره واده کول څنګه دي؟

سوال: (۲۹۲) مسمی په موجه په ذات بټیار خپلی نابالغی ښځی ته چه ددی سره ئی کوروالی نه دی کړی طلاق ورکړیدی، اوس ښځه بالغه سویده او دی بیا ددی سره نکاح کول غواړی آیا بی دحلالی څخه شرعًا نکاح جائز ده او که نه؟ او په طلاق نامه کي درجعی، بائن، یا دمغلظ څه ذکر نسته ؟

جواب: غیر مدخوله ته چه که دری طلاقه بیل بیل ورکړی نو په غیر مدخوله یو طلاق بائن واقع کیږی [2] په دی صورت کي ددی سره بی له حلالی اول خاوند نکاح کولی سی اوکه یو طلاق ئی ورکړی وی نو په درجه اولی سره اول خاوند بی دحلالی نکاح کولی سی [3]

دکونډي سره نکاح صحیح ده: **سوال:** (۲۹۳) زید دپنځو کالو راهیسي دیوی کونډي نکاح دیوه سړی سره وکړه خو دا معلومه نه ده چه دا کونډه حامله ده نو آیا نکاح صحیح ده اوکه نه او پرزید خو څه مؤاخذه نسته؟

جواب: نکاح صحیح ده خو که حمل دناکح څخه وی نو دحمل تر زیږولو پوری کوروالی حرام دی او دزید پرذمه هیڅ مؤاخذه نسته. [4]

---

[1] وصح نکاح حبلی من زنا الخ وحرم وطؤها ودواعیه حتی تضع لئلا یسقی ماء زرع غیره الخ لو نکحها الزانی حل وطؤها اتفاقا والولد له (در مختار) ای ان جاءت بعد النکاح به لستة اشهر فلو لاقل من ستة اشهر من وقت النکاح لا یثبت النسب ولا یرث منه الا ان یقول هذا الولد منی ولا یقول من الزنا الخ (رد المحتار فصل في المحرمات ص۴۰۱ ج۲ ط.س. ج۳ ص ۴۸). ظفیر

[2] قال لزوجته غیر المدخول بها انت طالق ثلاثا وقع الخ وان فرق بوصف او خبر او جمل بعطف او غیره بانت بالاولی لا الی عدة ولذا لم یقع الثانیة الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ص۲۲۴ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۲۸۴ - ۲۸۲). ظفیر

[3] وینکح مبانة بما دون الثلاث فی آلعدة وبعدها بالاجماع ومنع غیره فیها لاشتباه النسب (ایضا باب الرجعة مطلب فی العقد علی المبانة ص۷۳۸ ج۲، ط.س. ج۳ ص۴۰۹). ظفیر

[4] اخبرها ثقة ان زوجه الغائب مات او طلقها ثلاثا الخ وکذا لو قالت امرأة لرجل طلقنی زوجی وانقضت عدتی =

دکونړې ورينداري سره نکاح صحيح ده: سوال: (۲۹۴) يو سړى دخپلې ورينداري سره چه دده دبچى خوابنې هم ده نکاح کول غواړى نو ددى ښځى سره ددى سړى نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: ددى سړى نکاح ددغه مذکوره ښځى سره جائز ده ځکه چه دا په: واحل لکم ما وراء ذلکم [1] کي داخله ده.

ديوې ښځى په موجودتيا کي دبلى سره نکاح صحيح ده: سوال: (۲۹۵) دکلن نومي شخص يوه ښځه ده او دى اکثره وخت په بل وطن کي دتيکى کار کوى ددى وجي څخه دى بله نکاح کول غواړى چه هغه دځانه سره په سفر کي وساتى او دى ددواړو ښځو خرچه برداشت کولى سى نو دى دويمه نکاح کولى سى اوکه نه؟

جواب: چه ددواړو ښځو شرعى حقونه ادا کړى نو بله نکاح بيشکه کولى سى بلکه دا ښه ده چه ده ته په سفرکي تکليف نه وى. [2]

په دى ويلو سره چي پرى مى ښودلى، او هغه ښځه په طلاق کي وى، طلاق وسو او ددې څخه وروسته نکاح صحيح ده: سوال: (۲۹٦) زيد دخپلې منکوحى ښځى په باره کي وويل چه ما دا ديونيم کال را هيسي پرې اينبى ده او ددى سره مى څه تعلق نسته ، او داهم په طلاقو کي داخل دى، ددى ويلو څخه وروسته يو نيم کال دوه کاله وروسته منکوحه دزيد دبکر سره نکاح وکړه او وروسته ئى بيا تحريرى طلاق هم ورکړى، په دې صورت کي طلاق و اقع سو نو عدت به دکله څخه شمارل کيږى او دبکر سره چه کمه نکاح وسوه نو دا صحيح ده اوکه نه؟

جواب: دزيد دا ويل چه ما دا ديونيم دوو کالو راهيسي پرې اينبيده او ددې سره مى څه تعلق نسته اوداپه طلاق کي داخل دى دا موجب دوقوع دطلاق دى شرعا دده پرښځه بائن طلاق واقع دى او ددغه وخت څخه عدت شمارل کيږى او دعدې څخه وروسته چه کمه نکاح دبکر سره وسوه هغه صحيح سوه. [3]

= لا باس ان ينكحها (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة ص۸۴۷ ج۲ ط.س. ج۳ ص**۵۲۹** وصح نكاح حبلى من زنا الخ وان حرم وطؤها حى تضع الخ ولو نكحها الزانى حل له وطؤها ايضًا فصل فى المحرمات ص۴۰۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴۸. ظفير

[1] سورة النساء : ۲۴.

[2] فانكحوا ماطاب لكم من النساء مثنى وثلث و ربع الخ فان خفتم ان لا تعدلوا فواحدة (سورة النساء). ظفير

[3] سرحتك وفارقتك وجعلهما الشافعى من الصريح لورودهما فى القران للطلاق قلت المعتبر تعارفهما فى العرف العام فى الطلاق لاستعمالها شرعا مراد هو بها الخ (البحر الرائق كتاب الطلاق باب الكنايات ص**۵۲۵** ج۳. ط. س. ج۳. ص۳۰۱). ظفير

دنکاح څخه پنځه میاشتي او شپږ ورځي وروسته دښځي بچي پیدا سو نو څه حکم دی؟

سوال: (۲۹۷) دیوې ښځي نکاح وسوه دنکاح څخه وروسته پنځه میاشتي اوشپږ ورځي ددې ښځي لور پیدا سوه په دې صورت کي نکاح باقي ده اوکه نه ماته سوه او دسړي وطې صحیح دي اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کي نکاح وسوه دحاملې عن الزنا نکاح صحیح سوه او اوس چه وضع دحمل سویده دخاوند وطی صحیح دي اگر چه نکاح غیر دزاني سره وي. [1]

دخورئي او دوراره دلور سره نکاح جائز ده اوکه نه؟ **سوال**: (۲۹۸) دخورئي او دوراره دلور چه ماما او اکا لره دمحرمات شرعیه څخه دي مثلا خورئی او وراره دماما او داکا په غیر محرماتو کي نکاح وکړه نو ددې خورئی او وراره څخه یوه لور دغیر محارمو څخه پیدا سوه ددې سره ماما او اکا دده نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: داکا دزوی دلور یا دلور دلور سره ئې نکاح صحیح ده دغسې دماما دزوی دلور یا دلور دلور سره یې نکاح صحیح ده غرض دادی چه دخپل خور او ورور داولاد سره نکاح جائز نه ده وان سفلوا، او دابناء الاعم او ابناء الاخول داولاد سره نکاح صحیح ده، لقوله تعالی: واحل لکم ما وراء ذلکم ، الایة . فقط [2]

دزید دلور واده دده دسکه ورور دلمسي سره صحیح دي اوکه نه؟ **سوال**: (۲۹۹) زید، عمر اوبکر دری سره قریبان دي دزید او دعمر ددواړو پلاران سکه ورونه وه دزید واده دعمر دسکه خور سره وسو او بکر دزید دسکه ورور سکه زوی دي دبکر واده دعمر دلورسره وسو دعمر دخور یوه لور ده یعني دزید لور او دعمر دلور زوی دي یعني دبکر زوی اوس دبکر دزوی او دزید دلور په خپل مینځ کي نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دبکر دزوی او دزید دلور په مذکوره صورت کي په خپل مینځ کي نکاح صحیح ده. [3] فقط (وتحل بنات العمات والاعمام الخ فتح القدیر ص۱۱۷ ج۳).

دخاوند دمرگ څخه وروسته دحامله نکاح دزیږولو دحمل څخه وروسته صحیح ده: **سوال**: (۳۰۰) یوه ځوانه انجلۍ دخپل دخاوند دکوره ووتله او دبل سړي په کور کي اباده سوه اوس ددغه ښځي اول خاوند وفات سو او دابنځه داتو میاشتو راهیسي دزنا څخه حامله

---

[1] دخل تزوج حبلی من الزنا ولا یجوز تزوج الحبلی من غیر الزانی اما الاول الوطؤ کیلا یسقی ماءه زرع غیره فان قیل فم الرحم ینسد بالحبل فکیف یکون سقی زرع غیره قلنا شعره ینبت من ماء الغیر کذا فی المعراج وحکمالدواعی علی قولهماکالوطؤ کمافی النهایة (البحرالرائق فصل فی المحرمات ص۱۱۳ ج۲ ط.س. ج۳ ص۱۰۲).

[2] سورة النساء : ۲۴ ، وتحل بنات العمام والاعمام والخالات والاخوال، فتح القدیر. ظفیر

[3] واحل لکم ما وراء ذلکم ، النساء : ۲۴. ظفیر

ده وروسته دزيږولو دحمل څخه به دواړه توبه وکړی نو نکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: که مذکوره ښځه دخاوند دوفات څخه وروسته حامله وه او دخاوند دوفات کيدو څخه وروسته دی حمل وزيږوی نو په موجب ددی آيت کريمه: واولات الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن [۱] وروسته دحمل دزيږولو څخه ددی عدت پوره سوه نو نکاح کول ددی سره صحيح دی [۲] اوکه دا ښځه دخاوند دوفات څخه وروسته حامله سوه او حمل ددی دزنا څخه محقق دی نو دحمل دزيږولو څخه مخکی هم ددی نکاح صحيح ده او دحمل دزيږولو څخه وروسته خو ګرسره شك پاته نه سو لکه چه په در مختارکي دی: وصح نکاح حبلی من زنا، [۳] يعني: او صحيح ده نکاح دحامله عن الزنا.

دښځی دپلار او دښځی په بيان باندی اعتبار کول او نکاح کول صحيح دی: سوال: (۳۰۱) يوه حامله ښځه او ددی پلار دواړه دمراد آباد څخه پهلور ته راغلل او دا بيان ئی وکړ چه دښځی خاوند دی ته طلاق ورکړيدی اوس موږ ديو ديندار سړی سره ددې نکاح کول غواړو په دی صورت کي صرف دښځی او ددی دپلار په بيان باندی چه اعتماد وسی او دحمل دزيږولو څخه وروسته ددی ښځی سره نکاح وسي دا صحيح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کي موافق دبيان دښځی او ددی دپلار وروسته دوضع دحمل څخه نکاح ددی شرعًا صحيح ده. کذا فی الدر المختار والشامی. [۴]

دخپلی لور دبل دزوی سره اودبل دلور دخپل زوی سره نکاح کول څنګه دی؟ سوال: (۳۰۲) ډير غريبان داسی کوی چه خپله لور دبل زوی ته په نکاح کړی او دبل لور خپل زوی ته په نکاح کړی دا جائز ده اوکه نه؟

جواب: که دهري يوې جدا جدا مهر مقرر سی نو هيڅ پروا نسته. [۵] فقط

دسکه چاچی (تندار \ داکا ښځه) سره نکاح صحيح ده اوکه نه؟ سوال: (۳۰۳) دسکه چاچی

---

[۱] سورة الطلاق : ١٠. ظفير

[۲] وفی حق الحامل الخ وضع جميع حملها الخ ولوكان زوجها الميت صغير (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب العدة ص۸۳۱ ج۲. ط. س ج۳ ص۵۱۱). ظفير

[۳] ايضا فصل في المحرمات ص۴۰۱ ج۲. ط. س ج۳ ص۴۸. ظفير

[۴] وكذا لوقالت منكوحة رجل الاخر طلقنی زوجی وانقضت عدتی جاز تصديقها اذا وقع فی ظنه عدلة كانت ام لا (ردالمحتار باب الرجعة ص۷۴۷ ج۲. ط. س. ج۳ ص۴۱۸). ظفير

[۵] ووجب مهر المثل فی الشغار الخ وهم منهی عه لخلوة عن المهر فاوجبنا فيه مهر المثل فلم يبق شغارا (در مختار) قوله فی الشغار الخ ای علی ان يكون يضع كل صداقا عن الاخر وهذا القيد لابد منه فی مسمی الشغار حتی لولم يقل ذلك ولا معناه بل قال زوجت بنتی علی ان تزوجی بنتك فقبل الخ لم يكن شغارا بل نكاحا صحيحا اتفاقا (ردالمحتار باب المهر ص۴۵۷ ج۲ مطلب نكاح الشغار ط. س. ج۳ ص۱۰۲). ظفير

(داکا دښځي) سره نکاح جائز ده اوکه نه؟ که جائز ده نوکله جائز ده؟

جواب: داکا دوفات څخه وروسته چه کله دچاچی (داکا دښځي) دعدت لس ورځي څلور میاشتی تیری سی نو دغه وخت دچاچی سره نکاح صحیح ده. [۱]

څوک دخپلی خور نکاح دبل چا سره په دی شرط وکړی چه دی به زما سره دخپلی خور نکاح کوی نو دا څنګه ده؟ سوال: (۳۰۴) زید دخپلی خور نکاح دبکر سره پدی شرط وکړه چه بکر به دخپلی خور نکاح دزید سره کوی نودا نکاح شرعا جائزه ده اوکه نه؟

جواب: که مهر دهري یوی جدا جدا مقرر وی نو ددواړو نکاح صحیح ده او دا شغار نه دی چه منهی عنه دی ځکه چه په اشغار کي مهر جدا نه وی بلکه دبل چا دخپلی خور وغیره سره نکاح کول همدا مهر دی دمخکنی نکاح پر عکس، او احناف شغار نکاح ته هم صحیح وائی او مهر مثل واجب ګرځوی، کما فی الدرالمختار: ووجب مهر المثل فی الشغار هو ان یزوجه بنته علی ان یزوجه الاخر بنته او اخته مثلاً معاوضته بالعقدین وهو منهی عنه لخلوه عن لامهر فاوجبنا فیه المهر المثل فلم یبق شغاراً الخ. [۲] فقط

دنکاح څخه وروسته دفساد دبیری څخه تجدید دنکاح څنګه دی؟ سوال: (۲۰۵) یو سړی دیوی بالغی ښځي سره نکاح وکړه خو ددی سړی رشته داران چه کله راغلل نو ددوی دشر او فساد ددفع لپاره چه دوی ناراضه سوي وه چه زموږ په نیستوالي کي ولي نکاح سوي ده نو دده تجدید دنکاح یې وکړی په دې کي څه حرج خو نسته؟

جواب: چه دا ناکح ددی ښځی کفو وی نو نکاح صحیح سوه اوکه دوجی دبیری دفساد درشته دارانو په وړاندی دوباره نکاح وسوه نو څه حرج نسته او مخکنی نکاح صحیح ده. [۳] فقط

خاوند دخپل زوی نکاح دخپلی ښځي دلور سره کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۰۲) دیوی ښځی دوې نکاح ګانی سویدی چه دمخکنی مړ خاوند څخه ئی یوه لور ده او دی ښځی دیو داسی سړی سره نکاح کړیده چه دهغه یو زوی دی دمخکنی ښځی څخه نو ددی هلك او دانجلۍ په خپل مینځ کي نکاح جائز ده اوکه نه؟

---

[۱] اما منکوحة الغیر ومعتدته الخ فلم یقل احد بجوازه اصلا (ردالمحتار. باب المهر ص۴۸۲ ج۲. ط. س. ج۳ ص۱۳۲). ظفیر

[۲] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر مطلب نکاح الشغار ص۴۵۷ ج۲. ظفیر

[۳] فنفذ نکاح حرة مکلفة بلارضا ولی والاصل ان کل من تصرف فی ماله تصرف فی نفسه وما لا فلا وله ای للولی اذا کان عصبة الخ الاعتراض فی غیر الکفو (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ص۴۰۷ – ۴۰۸ ج ۲. ط. س. ج۳ ص۵۵). ظفیر

جواب: جائز ده. [۱]

دفارغ خطي څخه وروسته دوباره نکاح کولی سي اوکه نه؟ سوال: (۳۰۷) زید خپلی ښځی هنده ته فارغ خطي ورکړيده نو اوس دهنده سره دزید نکاح په عدت کي یا دعدت څخه وروسته کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دا صورت دفارغ خطي په حقیقت کي خلع ده او په خلع باندي طلاق بائن واقع کیږي او دطلاق بائن حکم دا دی چه عدت او دعدت څخه وروسته دمخکني خاوند سره نکاح کیدی سی او دحلاله ضرورت په دی صورت کي نسته. [۲] فقط

دواره دطلاقي سوي ښځي سره نکاح صحيح ده اوکه نه؟ سوال: (۳۰۸) دواره دطلاقي سوی ښځي سره وروسته دعدت څخه نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: صحیح ده (دا هم په: واحل لکم ما وراء ذلکم (سورة النساء : ۲۴) کي داخل دی. ظفیر)

دعدت څخه وروسته په زمانه دحمل کي نکاح صحيح ده: **سوال**: (۳۰۹) هنده دعدت دورځو دتیریدو څخه وړاندی دزید سره نکاح وکړه دوه میاشتي وروسته ورته معلومه سوه چه نکاح صحیح نه ده نو دزید سره ئی دوباره نکاح وکړه خو ددویمی نکاح په وخت د ا دزید څخه حامله سوی وه نو دویمه نکاح صحیح سوه اوکه نه؟ او هنده ته څه په کار دی؟

جواب: دویمه نکاح چه دعدت څخه وروسته وسوه صحیح ده او حمل چه دزید دی نو ده لره په حالت دحمل کي وطی هم جائز دی. [۳]

دبچندر دکونډي سره نکاح صحيح ده اوکه نه؟ سوال: (۳۱۰) دښځی سره دمخکني خاوند زوی دی ددی زوی دښځی سره چه اوس کونډه ده ددی دسړی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: صحیح ده، وقال الله تعالیٰ: واحل لکم ما وراء ذلکم، الایة (سورة النساء : ۲۴). [۴] فقط

---

[۱] ددی وجه چه په دي دواړو کي دحرمت کمه وجه نسته رباني ارشاد دی: واحل لکم ما وراء ذلکم (النساء : ۲۴) ولا باس ان یتزوج الرجل امراة ویتزوج ابنه امتها او بنتها لانه لا مانع (البحر الرائق فصل فی المحرمات ص۱۰۵ ج۴ ط. س. ج۳ ص۹۸). ظفیر

[۲] واذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها (هدایه باب الرجعة فصل فیما تحل به المطلقة ص۳۷۸ ج۲). ظفیر

[۳] وصح نکاح حبلی من زنا الخ لو نکحها الزانی حل له وطؤها اتفاقا والولد له ولزمه النفقة (درمختار) قوله والولد له ای ان جاء ت بعد النکاح به لستة اشهر الخ فلو لاقل من ستة اشهر من وقت النکاح لا یثبت النکاح الا ان یقول هذا الولد منی ولا یقول من الزنا خانیه (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۴۰۱ ج ۲ ط. س. ج ۳ ص ۴۸ – ۴۹). ظفیر =

دبدعتي عقيدي ښځي سره نکاح کيږي اوکه نه؟ سوال: (۳۱۱) ديوي ښځي دا عقيده ده چه پيرانِ پير او دده نور بزرگان او حضور ﷺ ته که يو څوك اواز وکړي نو دليری او دنژدی څخه اوري دداسي عقيدي څخه که ښځه توبه وباسي نو مخکني نکاح به جائز پاته وی او که نه دوباره نکاح کول پکار دی؟

سوال: (۲) که دخاوند هم دغه عقيده وی نو ايا نکاح فسخ سوه او ښځه دبل سړی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: (۱) ددوباره نکاح کولو ضرورت نسته .[1]

(۲) اوله نکاح نه ده فسخ سوي ددي ښځي دبل سړي سره نکاح کول صحيح نه دي.[2]

دفاسق نکاح صحيح ده: سوال: (۳۱۲) چه يو لوی سړی يا ماشومان دسرو زرو، سپينو زرو، يا وريښمو استعمال کوی او ږيره غڅي کوی او بريت لوی ساتي او دگناه په معلوميدو هم توبه نه باسي نو دداسي خلگو نکاح صحيح پاته کيدی سی اوکه نه؟

جواب: داسي خلگ فاسق او گنهگار دي، او دوی ته دی کافر ونه ويل سی او ددوی نکاح صحيح ده.[3]

دزاني دزوي واده دمزنيي دلور سره صحيح دي اوکه نه؟ سوال: (۳۱۳) يو سړی ديوی ښځي سره زنا کوی دزاني زوی چه دزاني دښځي څخه دی دده نکاح دمزنيي دلور سره چه دمزنيي داصلي خاوند څخه ده صحيح ده اوکه نه؟

جواب: دزاني دزوی نکاح چه دزاني دمخکني ښځي څخه دی دهغی انجلۍ سره صحيح ده چه دمزنيي دخاوند څخه ده.[4]

دفارغ خطي څخه وروسته نکاح جائز ده اوکه نه؟ سوال: (۳۱۴) ديوې بی حيا ښځي سره يوسړی نکاح وکړه بيادڅه وجه څخه يې دې ته فارغ خطيورکړه بيايې څلورپنځه مياشتي

---

[4] فجاز الجمع بين امرأة وبنت زوجها او امرأة ابنها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۹۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص۳۹). ظفير

[1] وفی النهر تجوز مناکحة المعتزلة لانا لا نکفر احدا من اهل القبلة وان وقع الزاما فی المباحث (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۹۸ ج۲. ط. س. ج۳ ص۴۵. (اوبدعتی ته هم علماء کافر نه وائی نو نکاح ورسره جائز ده). ظفير

[2] اما نکاح منکوحة الغير الخ فلم يقل احد بجوازه (ردالمحتار باب المهر ص۴۸۲ ج۲. ط. س. ج۳ ص۱۳۲). ظ

[3] حلق الشارب بدعة وقيل سنة ولا باس بنتف الشيب واخذ اطراف اللحية والسنة فيها القبضة الخ ولهذا قال يحرم علی الرجل قطع لحيته (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة ص۳۵۹ ج۵. ط. س. ج۲ ص۴۰۷). ظفير

[4] وحرم ايضًا بالصهرية اصل مزنية (درمختار) ويحل لاصول الزاني وفروعه اصول المزنی بها وفروعها (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲ ط. س. ج۳ ص۳۲). ظفير

وروسته ددی ښځي سره نکاح وکړه نو نکاح يې وسوه اوکه نه؟

جواب: په نيت دطلاق په فارغ خطی ورکولو سره پرښځه يو طلاق بائن واقع کيږی او ددی حکم دا دی چه رجعت بی له نکاح صحيح نه دی او نکاح بی دحلالی ددی سره جائز ده کما فی الدر المختار باب الخلع هو ازالة ملك النكاح بلفظ الخلع او ما فی معناه ليدخل لفظ المباراة فانه مسقط [۱] الخ و فيه ايضًا: ويسقط الخلع الخ والمبارة كل حق لكل واحد منهما علی الاخر الخ وحكمه ان الواقع به الخ طلاق بائن الخ [۲] غرض دا چه دوباره نکاح ددی ښځی دمخکنی خاوند سره صحيح ده. فقط

مخکنی خاوند که مړ سو يا دې ته ئی طلاق ورکړی نو بيا به هلته نکاح صحيح وی: سوال: (۳۱۵) دزيد عمر اتيا کاله دی هنده وروسته دنکاح څخه دډيپو سره بل وطن ته ولاړه او هلته ئی ديو کافر سره وخت تير کړی او درې څلور بچی ئی هم وسوه ددې څخه وروسته هندې توبه وايستله او دهنده عمر تقريبًا شپيته کاله دی زيد په دی خيال چه په بوډاتوب کې به مې دآرام باعث وی دهنده سره واده وکړی دارام دپاره واده کول جائز دی اوکه نه؟ دزيد اولاد په دې باندې ناراضه دی .

جواب: دا معلومه نه سوه چه هنده چې دکوم عقد څخه وروسته بل ملك ته تللی وه او هلته دکافر سره اوسيدله او بيا ئی توبه وايستله نو چه دکم سړی سره ئی مخکی عقد سوی وو هغه چيری دې ته ئی طلاق ورکړی اوکه نه مړدی اوکه ژوندی دی که ژوندی وي اوده طلاق هم ورکړی نه وی نو بيا خو ددی ښځی دبل چاسره نکاح صحيح نه ده [۳] او که هغه مړ سوی وی او يائی طلاق ورکړی وی نو دزيد نکاح کول ددی سره صحيح ده، او صرف دآرام دپاره نکاح کول هم جائز دی او اولاد لره په دې باندې ناراضه کيدل نه دی پکار. [۴]

دبلوغ څخه وروسته او دخلوت څخه وړاندی طلاق صحيح دی او په دې سره دعدت څخه وروسته نکاح صحيح ده: سوال: (۳۱۶) دزيد نکاح دهنده سره وسوه خو زيد نابالغ وو نو دزيد پلار ايجاب او قبول وکړی څه شپږ کاله وروسته هم زيد قابل دبلاغ نه سو اوکمزوری وو او خلوتِ صحيحه هم نه وو سوی يعنی وطی ونه سوې، زيد او دده مور

---

[۱] الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الخلع ص۷۲۲ ج۲. ط. س. ج۳ ص۴۳۹. ظفير

[۲] ايضا ص۷۷۰ ج۲ . ظفير

[۳] اما نكاح منكوحة الغير ومعتدته الخ لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (ردالمحتار باب المهر ص۴۸۲ ج۲ ط. س. ج۳ ص۱۳۲). ظفير

[۴] فانكحوا ما طاب لكم من النساء مثنی وثلث ورباع (سورة النساء ركوع ۱). ظفير

او پلار دهنده نکاح په بل ځای کي وکړه او طلاق نامه ئی هم ولیکله، وروسته دتحریر دطلاق نامی ځخه پنځه یا شپږ ورځی وروسته دهنده نکاح په بل ځای کي وسوه نو په دی صورت کي دا نکاح صحیح ده اوکه نه؟ او قاضی ناکح ته چه علم نه وو نو هغه ګنګهار دی اوکه نه؟

جواب: زید که طلاق وروسته دبالغیدو ځخه ورکړیدی نو هنده طلاقه سوه او چه خلوت صحیحه او وطی نه دي سوی نو پردی عدت واجب نه دی دزید دطلاق ځخه وروسته فوراً دویمه نکاح دهنده صحیح ده نکاح خوان وغیره ګنهګار نه دی کما قال الله تعالی: وان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن فما لکم علیهن من عدة تعتدونها، الاية (سورة البقرة :۳۲) . فقط

دخاوند حقیقي اکا چه دښځی دترور خاوند هم دی خو ترور ئی مړه ده دطلاق ځخه وروسته ددې سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۱۷) محمد بخش دبهوری نومي ښځی دسکه ترور خاوند دی او دبهوری دخاوند نوم شادی دی او دشادی مذکور محمد بخش سکه تره دی اوس که شادی خپلی ښځی بهوری ته طلاق ورکړی او دا بهوری دمحمد بخش سره نکاح وکړی نو جائز ده اوکه نه؟ دمسماة بهوری سکه ترور مړه سویده او ځه اولاد ئی هم نسته .

جواب: په دې صورت کي دمحمد بخش نکاح دخپلی مړی ښځی دوریری بهوری سره صحیح ده او دوراره دطلاقی سوی ښځی سره هم وروسته دعدت ځخه نکاح صحیح ده نو دمحمد بخش نکاح دمسماة بهوری سره په دواړو وجوهو صحیح ده کما قال الله تعالی: واحل لکم ماوراء ذٰلکم، الاية (النساء : ۲۴). فقط

دښځی دمرګ ځخه وروسته دښځی دخورزی سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۳۱۸) هنده دزید په عقد کي وه هغه وفات سوه اوس دهندې دوفات ځخه وروسته دزید ددی دسکه خورزې سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دهندې دمرګ ځخه وروسته زید دهندې دخورزی سره نکاح کولی سی. [1]

دنکاح ځخه وروسته معلومه سوه چه انجلۍ باکره نه ده نوځه حکم دی؟ سوال: (۳۱۹) ځه جینکیانې دخپل بد عمل دوجه ځخه دخپل ځان او دخاندان دشرم باعث سی او مور او پلار ته ددی علم هم وی خو دا پټه وساتی او په یو دروند مهر ئی په یو ځای کي واده کړي خاوند ته چه کله دخپلی ښځی دبد عملی علم وسي مثلاً دښځی ناجائز خط

[1] ددي وجه چه دجمع صورت نه پیدا کیږي کم چه ناجائز دی، ولا یجمع بین المرأة وعمتها او خالتها او ابنة اخیها او ابنة اختها (هدایه مجیدی فصل فی الحرمات ص۲۷۲ ج۲). ظفیر

اوکتابت دنکاح څخه ورانډی دده په لاس ورسی او چه ده خپله ښځه باکره هم نه وی پیدا کړی نو دده شك مضبوط سی اوسړی غریب په عجیبه مشکل کي مبتلا سی نه دا غواړی چه دا په خپله نکاح کي وساتی اونه ئی دومره طاقت سته چه مهر ادا کړی داسی نکاح چه ښکاره دهوکه ده جائز سوه اوکه نه؟ ځکه چه ناکح خو انجلۍ باکره ګڼله او په نکاح راضی سو او اوس معامله ددی خلاف ده؟

جواب: په دی صورت کي نکاح منعقد کیږی او مهر چه څه مقرر سوی دی هغه به ټوله لازمیږی، په درمختار کي دی: ولو شرط البکارة فوجدها ثیبا لزمه الکل الخ [1]. فقط

ښځه دنکاح څخه انکار وکړی اوګواهان په خپل مینځ کي مختلف وی نو څه حکم دی؟

سوال: (۳۲۰) زید دهنده سره نکاح وکړه دوه دری کاله وروسته دخاوند او دښځي په اولیاء کي اختلاف سو او اولیاؤ دښځی ښځه دخاوند دکور څخه منع کړه چه ولاړه سی، او زید ومسلمان حاکمِ وخت ته فیصله یووړه اولیاؤ دښځی دنکاح څخه انکار وکړی په غرض دشهادت دعقد خاوند څو ګواهان قائم کړل او دښځی اولیاؤ ګواهانو ته رشوت ورکړی دزید څخه ئی واړول او ددروغو په ګواهی ئی اماده کړل، نو ګواهانو دګواهی په وخت کي چا وویل دشپی او چا وویل دورځی او چا وویل درمضان په میاشت کي او چا په غیر درمضان کي نکاح کیدل بیان کړل خو دنفس نکاح انکار یوه هم ونه کړی حاکم دوخت ګواهان دروغجن وګڼل او مقدمه ئی خارجه کړه، په دې صورت کي نکاح ثابته سوه اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار: وکذا تجب مطابقة الشهادتین لفظا ومعنا الخ بطریق الوضع الخ ولو شهد احدهما بالنکاح والاخر بالتزویج قبلت لاتحاد معناهما الخ وفی الشامی قوله بطریق الوضع ای بمعناه المطابقی وهذا جعله الزیلعی تفسیر للموافقة فی اللفظ حیث قال والمراد بالاتفاق فی اللفظ تطابق اللفظین علی افادة المعنی بطریق الوضع لا بطریق التضمن الخ [2] (شامي ص۳۸۹ ج۴) وایضا في الدر المختار وشرط حضور شاهدین الي ان قال ولو فاسقین الخ قوله ولو فاسقین اعلم ان النکاح له حکمان حکم الانعقاد وحکم الاظهار فالاول ما ذکره والثاني انما یکون عند التجاحد فلا یقبل في الاظهار الا شهادة من تقبل شهادته في سائر الاحکام الخ (شامي ص۱۷۳ ج۲).

ددي مخکنی عبارت څخه معلومیږی چه دګواهانو داختلاف په صورت کي شهادت معتبر نه دی او دښځی دانکار په حالت کي په داسی ګواهی سره نکاح نه ثابتیږی او

[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ص۴۷۲ ج۲. ط. س. ج۳ ص۱۲۲. ظفیر

[2] ردالمحتار کتاب الشهادة باب الاختلاف فی الشهادة ص ۵۳۲ - ۵۴۰ ج۴ ط. س. ج۳ ص۴۹۳. ظفیر

دروایت ثانیه څخه معلومیږي چه دفاسقانو ګواهانو او دغیر مقبول الشهادت په حاضر کیدو سره او دایجاب او قبول په اوریدو سره نکاح منعقده کیږي خو په صورت دتجاحد کي دداسی ګواهانو په ګواهی نکاح نه ثابتیږي حاصل داچه دا صورت دفسخ دنکاح نه دی چه داسي وویل سی چي: دحاکم غیر مسلم په حکم سره به نکاح نه فسخ کیږي بلکه په دې حالت کي چه کله ښځه دنکاح څخه منکره ده او دخاوند په ګواهانوکي لفظی او معنوی اختلاف دی نکاح ګرسره ثابته نه ده په دی باندي فقهاؤ تصریح کړیده، کما فی الدرالمختار والشامی: والمرأة کالقاضي، ددی وجه څخه چي کله دښځي نکاح ثابته نه وی نو ددې سړی څخه به جدا وی او دده منکوحه به نه وی اوکه ښځه اقرار کوی دنکاح نو نکاح ثابته ده اول خو دګواهانو ضرورت نسته اوکه ګواهانو اختلاف وکړی نو ددوی داختلاف سره سره هم نکاح ثابته ده په تصادق دزوجینو سره، او باطله به نه وی او ددوی پرګواهی څه اثر مرتب نه دی.

جبراً نکاح وسوه خو دوه ګواهان ګواهی ورکوی چه دښځي په رضا سره وسوه نو څه حکم دی؟ سوال: (۳۲۱) هنده چه کونډه ده دهغی نکاح په جبر دزید سره وسوه اوس هنده وائی چه زما نکاح په جبر سویده زما رضا نه وه او نه ده او دخاوند داړخه څخه څو دروغجن ګواهان دی چه دخاوند رشته داران دی ګواهی ورکوی چه نکاح دمنکوحې په رضا سره وسوه او دارنګه څه ګواهان دښځی داړخه ددی په نه رضاوالی ګواهی ورکوی او ښځه هم د ا واویلا کوی او دنکاح څخه وروسته مدخوله سوی نه ده نو نکاح ثابته سوه اوکه نه؟

جواب: که دوه ګواهان معتبر دخاوند داړخه څخه رضامندی دښځی ثابته کړی نو نکاح به صحیح او ثابته وی او دښځی دنارضامندی داظهار اعتبار به نه وی او ددی ګواه په عدم رضا به نه اوریدل کیږي .[1]

دزوی دښځی (مړور) دسکه خور سره دپلار نکاح صحیح ده: سوال: (۳۲۲) محمود دزید زوی دی او دمحمود واده دبسم الله (نومي ښځي) سره وسو او دبسم الله مشره سکه خور هغه زینب ده هغه غواړی چه خپله نکاح دمحمود دپلار زید سره وکړی نو داجائزده اوکه نه؟

جواب: دزید نکاح دمسماة زینب سره چه دهغي سکه خور دده دزوی ښځه ده صحیح ده، کما قال الله تعالی: احل لکم ماوراء ذلکم، الایة .[2]

---

[1] قال الزوج لبکر البالغة بلغك النکاح فسکت وقالت رددت النکاح بینة لهما علی ذلك ولم دخل بها طوعا فی الاصح فالقول قولها الخ وتقبل بینة علی سکرتها الخ ولو برهنا فبینتها اولی ..... الا ان یبرهن علی رضاها او اجازتها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ص۴۱۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۳). ظفیر =

<u>دیوه ناجائز شرط سره نکاح کول څنګه دي؟</u> سوال: (۳۲۳) یوه ښځه دیو سړی سره په دی شرط نکاح کول غواړی چه تردری میاشتو پوری به پرده نه کوم او دغه وخت به خپلی روپی وغیره وصولوم په دی صورت کي به ددې ښځي سره نکاح وسی اوکه نه؟

جواب: نکاح کول ددی ښځی سره جائز دی او نکاح کول پکار دی، دنکاح څخه وروسته چه څنګه کیدای سی دروپو دوصولولو انتظام دی وسی او شرعی پرده کول پکار دی دښځی په دی شرط چه تردری میاشتو پوری به پرده نه کوم عمل دی په دی ونه سی دنکاح څخه وروسته به دا ښځه دخاوند محکومه سی اوددی به هیڅ اختیار نه وی. [1] فقط

<u>دترور دلور لور سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ او دحرمت درضاعت عمر</u>: سوال: (۳۲۴) زید دخپلی ترور دلور دلور سره نکاح کول غواړی دا جائز ده اوکه نه؟ دې دترور دلور لور ئی دزید دنسبی خورسره چه تی رودونکی وه هم یو ځل یا دوه ځله دزید دمور شیدې رودلی دی دغه وخت ددی دعمر اندازه ددوو کالو او دشپږو میاشتو څخه زیاته وه نو په دی صورت کي څه حکم دی؟

جواب: په دې صورت کي دزید نکاح دده دترور دلور لور سره صحیح ده ځکه چه کله دترور دلور سره نکاح صحیح ده نو دلور لور سره خو ئی په طریق اولی صحیح ده ځکه چه دا دمحرماتو څخه نه ده [2] او درضاعت دمدې څخه وروسته چه دوه یا دوه نیم کاله دی علی اختلاف القولین، په شیدو څکلو رضاعت نه ثابتیږی کما فی الدر المختار: ویثبت التحریم فی المدة. [3] فقط

<u>دیوې انجلۍ په شرمګاه کي ننکۍ (دانه) وه نو چا دا څیری کړه دهغه سره ئی هم نکاح جائز ده اودبل چاسره هم</u>: سوال: (۳۲۵) دیوې پیغلی انجلۍ په شرمګاه کي دانه راوختله او ددی ولی په نامحرم سړی دا اپریشن کړه نو ددی انجلۍ بی حرمتی وسوه اوکه نه؟ او دا انجلۍ دیوه نامحرم په نکاح کي جائز کیدی سی اوکه نه؟ آیا صرف داپریشن کوونکی سره اوکه نه دبل نامحرم سره هم؟

---

[2] سورة النساء : ۲۴ ، فلا تحرم بنت زوجة الابن (البحرالرآئق في المحرمات ص۱۰۰ ج۳، ط.س. ج۳ ص۹۴) کله چي دزوی دښځي لور حرامه نه ده نو دهغي خور خوپه درجه اولی حرامه نه ده. ظفير

[1] ولکن لا یبطل النکاح بالشرط الفاسد وانما یبطل الشرط دونه یعنی لوعقد مع شرط فاسد لم یبطل النکاح بل الشرط (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح فصل فی المحرمات ص۴۰۵ ج۲ ط. س. ج۳ ص۵۳). ظفیر

[2] وخالة خالة ابیه فحلال کبنت عمه وعمته وخاله وخالته لقوله تعالی: واحل لکم ماوراء ذلکم (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۲ ج۲ ط.س. ج۳ ص۳۰). ظفیر

[3] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاء ص۵۵۵ ج۲ ط. س. ج۳ ص۳۱۱. ظفیر

جواب: دضرورت په وخت دا جائز دی او په دې کي شرعًا څه بی حرمتی نسته ځکه چه دطبیب کتل په داسی موقع فقهاؤ په ضرورت دعلاج جائز ګرځولی دی [1] نو نکاح ئی دهر يوه سره کيدی سی داپريشن کونکی سره هم او دبل سره هم. فقط

دخاوند دطلاق څخه وروسته نکاح صحيح ده مخکنی نه: **سوال**: (٣٢٦) يوه بالغه انجلۍ چه عمر ئی اوولس کاله دی ددی سکه تره دخپل زوی سره چه دهغه عمر يوولس دولس کاله دی په نکاح کړه خو دښځی او دخاوند په مينځ کي خوښي نه وه وروسته ددی ښځه دخاوند پلار دخپل زوی ښځی ته دبدچلنئ په وجه طلاق ورکړی او څه روپی ئی پرواخيستی په بل رياست کي ئی پرې ښووله نو ددی په عدت کي يې نکاح وکړله دهغه ځای څخه ورور راوستله او ښځه چه دلته راغله نو دمخکنی خاوند کور ته تلل ئی منظور کړه خو مخکنی خاوند دراوستلو څخه انکار وکړی چه ما خو طلاق ورکړی دی بيا دښځی ورور دا ښځه ددی په رضا سره په بل ځای کي په نکاح کړه دا نکاح وسوه او که نه؟

جواب: دپلار په طلاق سره دزوی ښځه نه طلاقيږی [2] ددی وجه څخه دغه طلاق او ددې څخه وروسته چه کمه نکاح سويده هغه ناجائز او باطله ده البته چه کله مخکنی خاوند په خپله دا وويل چه ما طلاق ورکړيدی نو دغه وخت طلاق واقع سو دعدت څخه وروسته دا مطلقه دبل سړی سره نکاح کولای سی او دا نکاح چه ددريم سړی سره وسوه دعدت څخه وروسته سوی وه نو صحيح ده اوعدت هم هلته لازم دی چه ښځه مدخول بها وی کني عدت نسته کما قال الله تعالي: ثم طلقتموهن من قبل ان تمسوهن فما لكم عليهن من عدة تعتدونها (سورة الاحزاب : ٢) ، الآية . فقط

دفضولی نکاح موقوفه ده: **سوال**: (٣٢٧) زينب بي بي دپلار په اجازت سره دزيد سره نکاح وکړه او دزينب سره ددې کشر ورور عمر وو چه دهغه عمر اندازةً شپږ کاله وو دزيد ورور بکر خپله لور فاطمه عمر ته په نکاح کړه او دعمر پلار نه وو موجود دلسو ورځو

---

[1] وكذا مريد نكاحها وشرائها ومداوتها ينظر الطبيب الى موضع مرضها بقدر الضرورة اذ الضرورة تتقدر بقدرها الخ وينبغي ان يعلم امرأة تداويها (درمختار) قوله ينبغي قال في الجوهرة اذا كان المرض في سائر بدنها غير الفرج يجوز النظر اليه عند الدواء لانه موضع ضرورة وان كان في موضع الفرج فينبغي ان يعلم امرأة تداويها فان لم توجد وخافوا عليها ان تهلك او يصيبها وجع لا تحتمله يستروا منها كل شيء الاموضع العلة ثم يداوينها الرجل ويغض بصره ما استطاع الا عن موضع الحرج آه (الدرالمختار كتاب الحظر والاباحة فصل في النظر والمس ص ٣٢٢ – ٣٢٥ ج٥ ، ط. س. ج ٣ ص٣٧٠). ظفير

[2] ولا يقع طلاق المولى على امرأة عبده لحديث ابن ماجه الطلاق لمن اخذ بالساق (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الطلاق ص٥٩٥ ج٢ ط. س. ج٣ ص٢٤٢). ظفير

په فاصله وو بغير دده داجازت څخه داسى وسول او دعمر دطرف څخه خالد قبول وكى چه دعمر رشته دار نه دى بلكه پردى سړى دى، لس يوولس كاله تير سوه اوس دعمر نكاح دفاطمى سره قرار ده اوكه نه؟

جواب: په درمختار كي دي: كل تصرف صدر منه وله مجيز حال وقوعه انعقد موقوفا [1] او شامى دمجيز په بيان كي ليكى: من مالك او ولى كاب وجد ووصى وقاضي [2] نو ددې څخه ثابته سوه چه په صورت مسئوله كي دعمرو پلار چه مجيز دى په وخت دعقد كي موجود نه دى نو دا تصرف دفضولى دده پراجازت موقوف دى باطل به نه وى اوچه كله عمر مخكى داجازت دپلار څخه بالغ سو نو اوس به عقد دده پر اجازت موقوف وو لكه چه ددى جزئيې نه مستنبط كيږى: اي تصرف تصرفا يجوز عليه لو فعله وليه في صغره كبيع وشراء وتزوج وتزويج امته وكتابة قنه ونحوه فاذا فعله الصبي بنفسه يتوقف علي اجازة وليه ما دام صبيا ولو بلغ قبل اجازة وليه فاجاز بنفسه جاز ولم يجز بنفس البلوغ بلا اجازة [3] ردالمحتار جلد رابع ص۱۵۲، غرض دا چه دا نكاح موقوفه ده ترڅو چه دمجيز دطرفه اجازت يا انكار ونه سى نو موقوفه به وى. فقط

دميره دسكه خورسره نكاح جائز ده اوكه نه؟ سوال: (۳۲۸) بكر دزيد زوى دى دبكر دمور دمرګ څخه وروسته زيد دبلى ښځى سره نكاح وكړه اوس بكر دخپلى ميره مور دسكه خور سره نكاح كولاى سى اوكه نه؟

جواب: دبكر نكاح دخپلى ميره مور دسكه خور سره جائز او صحيح ده. [4] فقط

دښځى دكمى خور سره چه ئى زنا وكړه دهغې دزوى سره دخپلى لور واده كولى سى اوكه نه؟ سوال: (۳۲۹) رجل زنا باخت زوجة هل يجوز نكاح بنته بولد المزنية بالادلة القطعية؟

جواب: يجوز نكاح بنت الزاني بابن المزنية كما قال في ردالمحتار: ويحل لاصول الزاني وفروعه اصول المزني بها وفروعها . آهـ [5] (شامي ص۲۷۹ ج۲ چاپ: مصر) .

كه بالغ هلك خپلى نابالغى ښځى ته طلاقونه وركړى نو ددى سره دوباره نكاح كولى سي اوكه نه؟ سوال: (۳۳۰) ديوه بالغ هلك نكاح ديوې نابالغي انجلۍ سره وسوه نو دې هلك

---

[1] الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب البيوع فصل في الفضولى ص۱۸۷ ج۴. ط. س. ج۳ ص۱۰۲. ظ

[2] ردالمحتار كتاب البيوع فصل ايضا ص۱۸۷ ج۴ ط. س. ج۳ ص ۱۰۲. ظفير

[3] ردالمحتاركتاب البيوع فصل في الفضولى تحت قوله بيانه صبى باع مثلاً ص۱۸۷ج۴. ط.س. ج۳ص۱۰۲.

[4] واما بنت زوجة ابيه وابنه فحلال (در مختار) وكذا بنت ابنها ولا تحرم بنت زوج الام ولا امه ولا ام زوجة الاب ولا بنتها الخ (ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۸۳ ج۲ ط. س. ج۳ ص۳۱). ظفير

[5] ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۸۴ ج۲ ط. س. ج۳ ص۳۲. دسوال اوجواب حاصل دادي چه دزاني دلور سره دمزنيې دزوى نكاح صحيح ده. ظفير

دې نا بالغې انجلۍ ته طلاقونه ورکړل اوبل ځای یې خپله نکاح وکړه اوس دغه انجلۍ بالغه سوه نو هلك او انجلۍ دوباره نکاح کول غواړي او تراوسه ددوی دخلوت نوبت نه وو راغلی نوپه دې صورت کې ددوی دوباره نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې ددوی دوباره نکاح کول صحیح دی. هکذا في کتب الفقه [1]

دښځې په موجودوالي کې دخپلې میریزی خواښې سره نکاح کول څنګه دی؟ سوال: (۳۳۱) زید دوو ښځو سره عقد کړی وو ددوهمې ښځې دعقد په وخت یوه انجلۍ دځلورو کالو دزید دنطفې څخه وه چې دهغې په بالغیدو باندې بکر ددې سره عقد وکړی بیا زید په مرض دطاعون باندې مړ سو اوس دزید دمخکنۍ ښځې سره بکر نکاح کول غواړي دنکاح څخه مخکې دبکر دزید سره هیڅ قسم قرابت نه وو نوپه دې حالت کې بکر دزید دمخکنۍ ښځې سره چې دبکر میرزی خواښې ده نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: که دغه انجلۍ چې دبکر په نکاح کې ده دزید دمخکنۍ ښځې دګیډې څخه نه وي او دزید مخکنۍ ښځه دبکر سکه خواښې نه ده نو دبکر نکاح دهغې سره صحیح ده، په درمختار کې دي: فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها الخ ، درمختار . [2] فقط

دښځې داجازې څخه بغیر سړی لره دوهم واده کول صحیح دی: **سوال**: (۳۳۲) بی اجازته دښځې څخه خاوند لره دوهم واده کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: خاوند دوهمه نکاح بی اجازته دمخکی ښځی څخه کولی سی دښځی څخه شرعًا داجازی اخیستو څه ضرورت نسته نکاح کیږی [3] خوکه دمصلحت دوجه څخه چی په دوی کی بی اتفاقی رانسی اجازه ځینی واخلی او داراضی کړی اودوهمه نکاح وکړی نو دا ښه خبره ده.

دښځې دمرګ څخه وروسته ددې دمیریزی انا سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۳۳۳) زید دهندی سره نکاح وکړه لږ وخت وروسته هنده مړه سوه اوس زید دهندی دمیریزی انا سره یعنی دهندی دسکه نیکه دمنکوحی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی زید دخپلی مخکنی ښځی هندی متوفیه دنیکه دمنکـــــوحي

---

[1] واذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها في العدة وبعد انقضائها (ردالمحتار فصل فیما تحل به المطلقة ص۳۷۸ ج۲). ظفیر

[2] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۹۱ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۳۹. ظفیر

[3]. په قرآن کریم کی دی: فانکحوا ماطاب لکم من النساء مثنی وثلث وربع (النساء: رکوع ۱) خاوند اختیارمند دی اوپه شریعت کی دښځی داجازی هیڅ قید نسته البته داخبره شرط ده چی عدل اومساوات به کوی ځکه دباری تعالی ارشاد دی: وان خفتم ان لا تعدلوا فواحدة (النساء: رکوع ۱). ظفیر

کونډی نکاح کولی سی. کذا فی کتب الفقه وقد قال الله تعالی: واحل لکم ماوراء ذالکم (سورة النساء : ۲۴) الآیة، ولیس فیه جمع بین المحارم الخ. فقط

دکوزدې ښځه وروسته یی زنا وکړه بیایی نکاح وکړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۳۳۴) دزید کوزده دعمر دلور سره وسوه زید دنکاح ښځه مخکی ددی سره زنا وکړه اوښو ورځی وروسته نکاح وسوه نودا نکاح صحیح سوه اوکه نه اودنکاح ښځه مخکی چی کمه زنا سوی ده دهغه څه کفاره ده؟

جواب: دانکاح صحیح [1] ده اوپه مخکی یی چی کمه زنا کړیده دهغه ښځه دی توبه او استغفار وکړی همدا یی کفاره [2] ده.

چی کمه کونډه دی ښکل کړه دهغې سره نکاح صحیح ده: سوال: (۳۳۵) یو سړی یوه کونډه ښځه مچ کړه اودهغې سینه یی ونیوله اوس ددغه سړی ددې کونډی سره نکاح کول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: ددی ښځی سره ددغه سړی نکاح شرعا صحیح ده اوچی کله دهغې ښځی سره نکاح جائزده چی دهغې سره یې زنا کړی وی نوددی سره خوپه درجه اولی جائز ده. (لو نکحها الزانی حل له وطؤها. درمختار ظفیر)

دځوانی ښځی نکاح دنابالغه هلک سره صحیح ده: سوال: (۳۳۶) یوه کونډه ښځه چی پنځلس کاله یی عمر دی ددې نکاح دشپږو کالو دیو هلك سره وسوه په داسی حالت کی نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: چی دنابالغ ولی دانکاح کړی وی نونکاح صحیح سوه که دپنځلسو کالو یا ددی ښځه دزیات عمر ښځه خپله نکاح دنابالغ هلك سره وکړی اودنابالغ دطرفه دده ولی اجازه ورکړی نونکاح صحیح کیږی [3].

دبالغی انجلی په قول اعتماد کول اونکاح کول جائز دی: سوال: (۳۳۷) یوه ځوانه انجلۍ داورګاډي دستیشن سره پیدا سوه دتلاش کولو سره سره څه وارث یی پیدا نه سو او دا وایی چی زما نکاح نه ده سوی ددی دنکاح فکر دی ځکه چی ځوانه ده آیا ددی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

---

[1] لونکحها الزانی حل له وطؤها اتفاقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۴۰۱ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۴۹). ظفیر

[2]. ولي چي په دار الحرب کي سره له ثبوته یا اقراره حد نسته ، لانه لا حد بالزنا في دار الحرب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ص۱۹۵ ج۳، ط.س. ج۳ ص۵). ظفیر

[3] وهوای الولی شرط صحة نکاح صغیر ومجنون (ایضا باب الولی ص۴۰۷ ج۲. ط.س. ج۳ صحیح ۵۵) . ظ

جواب: په داسې حالت کې چې انجلۍ په خپله بالغه ده لکه چې دسوال موافق دا اوس دپنځلسو کالو ده اوموافق ددې دبیان چې ددې نکاح نه ده سوې که ددې په رضامندۍ سره ددې نکاح په کفوکې وسي نو دشریعت دقاعدې موافق صحیح ده (۱). فقط

دښځې دطلاق یا دمرګ څخه وروسته ددې دخور سره واده: **سوال**: (۱۳۳۸) که دیوه سړي ښځه مړه سي نودا سړی دمړې سوې ښځې دخور سره نکاح فی الحال کولی سي اوکه نه، بعض عالمان ددې قائل دي چې ترڅلورو میاشتو اوتر لسو ورځو پورې نکاح نه سي کولی او ددرمختار ددې عبارت څخه استدلال کوي: ومواضع تربصه عشرون کنکاح اختها الخ. دا استدلال دمطلقه اودمتوفیه ددواړو په حق کې صحیح دی اوکه صرف دمطلقې په حق کې بعضې عالمان فی الحال نکاح صحیح وایي نوپه دې کې دچا قول صحیح دی؟

جواب : دا استدلال دمطلقې په باره کې صحیح دی اودمتوفیه په حق کې نه دی ځکه چې دمړې ښځې دخور سره دښځې دمرګ څخه وروسته سمدستي نکاح صحیح ده، کما فی الدرالمختار: فرع، ماتت امراته له التزوج باختها بعد یوم من موتها کما فی الخلاصة عن الاصل وکذا فی المبسوط لصدر الاسلام والمحیط للسرخسی والبحر والتتارخانیة وغیره من الکتب المعتمدة الخ شامی (۲) جلد ۲ صحیح ۲۸۴ باب المحرمات. فقط

داسمٰعیل واده دخپل نیکه دورور دلور سره صحیح دی اوکه نه چې دده داکا کونږه هم ده؟

سوال: (۱۳۳۹) دسردار خان درې زامن دي وزیر خان، دلاور خان، منورخان دوزیر خان یو زوی واحد خان دی دده واده دمنور خان دیوې لور ظهور سره وسو اوبل زوی یې عظیم الله خان دی دده واده ددلاور خان دلور صغرٰی سره وسو، واحدخان چې واده یې دظهور سره سویدی دهغه یوزوی پیداسو اسمٰعیل خان، اوعظیم الله چې دهغه واده دصغرٰی سره سوی وو عظیم الله خان مړسو داسمٰعیل خان واده دصغرٰی سره کیدی سي اوکه نه؟

جواب : په دې صورت کې داسماعیل خان نکاح دصغرٰی سره شرعا صحیح ده دعدې دتیریدو څخه وروسته دصغرٰی نکاح داسماعیل خان سره کیدی سي. هکذا فی کتب الفقه. فقط

(فیحرم علی الانسان فروعه الخ واصوله وهم امهاته وامهات امهاته وابائه وان علون وفروع ابویه وان نزلن فتحرم بنات الاخوة والاخوات وبنات اولاد الاخوة والاخوات وان نزلن وفروع اجداده وجداته لبطن

(۱) فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضا ولی (ایضا باب الولی ص ۴۰۷ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۵۵). ظفیر

(۲) رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر

واحد فلهذا تحرم العمات والخالات وتحل بنات العمات والاعمام والخالات والاحوال، فتح القدیر فصل فی المحرمات ص۱۱۷ ج۳. ظفیر)

په عده کی یی واده وکی بیا جلا سول اوس دعدی څخه وروسته نکاح کولی سی اوکه نه؟

سوال: (۳۴۰) یوی کونډی ښځی دمرګ په عده کی دننه دوهمه نکاح وکړه وروسته داطلاع څخه په دوی کی تفریق اوجدایی وسوه اوس جګړه په دې کی ده چی یوعالم وایی چی ددوی نکاح دانقضاء دعدی څخه وروسته هم ناجائزده بالکل دي په خپل مینځ کی نکاح نه کوی، نودا صحیح ده اوکه نه؟

جواب: داحکم دقاضی صاحب چی ددوی په مینځ کی هیڅکله هم نکاح نه سی کیدی غلط دی دعدی دتیریدو څخه وروسته په دوی کی بیا نکاح کیدی سی، په عده کی چی دنکاح کولو کمه ګناه سویده نودهغه څخه دي توبه وکاږی اودعدی تیریدوڅخه وروسته دی نکاح وکړی په دې کی شرعا څه ممانعت نسته. ([1]) فقط

چی جبراً اجازه ورکړی نوهم نکاح کیږی: **سوال:** (۳۴۱) یوی کونډی ښځی خپله نکاح دزید سره کول وغوښتل خوددی ورور اونیکه ددی څخه جبرا اجازت واخیستی اودبکر سره یی ورته نکاح وکړه وروسته بیا ښځی په عدالت کی درخواست وکی چی زما نکاح جبراً سویده ددی وجه څخه دلته نه اوسیږم غرض داچی مقدمه جرګی ته راغله اودبکر څخه فارغ خطی واخیستل سوه اودښځی نکاح دزید سره وسوه نوچی کمه نکاح دبکر سره سوی وه هغه جائزده اوکه نه؟

جواب : ددی کونډی نکاح چی دبکر سره سوی وه صحیح سوی وه ځکه چی نکاح په اکراه سره هم کیږی: کما استدل علیه الفقهآء ([2]) بقوله ﷺ ثلث جدهن جد وهزلهن جد الحدیث ([3]) وعد ﷺ منها النکاح. بیا کله چی دبکر څخه فارغ خطی واخیستل سوه نو دغه ښځه دنکاح څخه دباندی سوه اوس که ددې نکاح دزید سره دعدی دتیریدو څخه وروسته سوی وی نوصحیح ده اوکه په عده کی وی نوباطله ده، الاان تکون غیر مدخولة.

دعمر نکاح دده دوورور دښځی دلور سره صحیح ده اوکه نه؟ **سوال:** (۳۴۲) څه فرمایی علماء دین اومفتیان دشرع متین په دې مسئله کی چی زید اوعمر دواړه سکه ورونه دی

([1]). اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (ردالمحتار ص۴۸۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص۱۳۲). ظفیر

([2]). اذ حقیقة الرضا غیر مشروطة فی النکاح لصحته مع الاکراه والهزل رحمتی (رد المحتار کتاب النکاح ص ۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱). ظفیر

([3]) مشکوٰة باب الخلع والطلاق ص ۲۸۴. ظفیر

اوهنده دزید منکوحه ده چی زینب یی دځان سره راوستله چی دهندی ځخه دخالد لور ده اوس دزید ورور عمر دزینب سره نکاح کول غواړی، نودا عقد جائزدی اوکه نه؟ بینوا وتؤجروا.

جواب: دعمر نکاح دزینب سره چی دا دزید ربیبه ده صحیح ده ولي چي زینب یوازي پر زید باندي حرامه ده ولي چي دا دهغه بچندره ده: کما قال الله تعالی: وربائبکم اللاتی فی حجورکم من نساء کم اللاتی دخلتم بهن الخ، وکماقال الله تعالی: واحل لکم ماوراء ذالکم (۱). فقط

دمزنیه دزوی سره دزانی دخور نکاح صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۳۴۲\) یوسړی دبل دمنکوحی سره زنا کوله، آیا دزانی دخور او دمزنیې دزوی په خپل مینځ کی نکاح کیدی سی؟

جواب: دزانی دخور نکاح دمزنیه منکوحة الغیر دزوی سره شرعًا جائز ده، لقوله تعالی: واحل لکم ماوراء ذالکم (۲). ظفیر

ناواده سوی کافره مسلمانه سوه نو دهغې نکاح صحیح ده: سوال: (۳۴۴\) یوه ښځه مسلمانه سوه اوپه حالت دکفرکی ددی نکاح نه وه سوی نوپه مسلمانیدو سره ددی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: ددی نکاح داسلام ځخه وروسته سمدستی دیو مسلمان سره صحیح ده. کذافی الدرالمختار. (۳)

دخاله دلور دلور سره واده صحیح دی: سوال: (۳۴۵\) دخاله دلور دلور سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: جائزده (۴).

دمیرنی مور دزوی دخپلی لور سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۳۴۲\) دزید میرنی مور چی کونډه سوه اودې بل ځای نکاح وکړه اوددی زوی پیداسو نوزید ددغه هلك سره دخپلی لور نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دانکاح صحیح ده. (۵)

---

(۱). و(۲). سورة النساء : ۲۴. ظفیر

(۳) ومن هاجرت الینا مسلمة الخ فیحل تزوجها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النکاح ص۵۳۸ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۱۹۳). ظفیر

(۴) وتحل بنات العمات والاعمام والخالات والاخوال (فتح القدیر في المحرمات ص۱۱۷ ج۳). ظفیر

(۵) فلا تحرم بنت زوجة الابن الخ ولا بنت زوجة الاب (البحر الرائق فصل في المحرمات ص۱۰۰ ج۳ ط.س. ج۳ =

هنده مسلمانه سوه او دزيد سره يې واده وکړی خو هنده دهندوانو په طريقه اوسيږي نو ددې څه حکم دی؟ **سوال**: (۳۴۷) دزيد او دهندې چې کونډه ده دڅه زمانې راهيسي ناجائز تعلق وو زيد دتعشُّق په وجه هنده چې هندو وه ددوو سړيانو په وړاندي مسلمانه کړه او ددوی په وړاندي يې ورسره نکاح وکړه اوس هنده دخاندان دبدنامۍ دوجي اسلام پټ ساتي او دخپلو پخوانيو طريقو پابنده ده نو آيا دهندې اسلام راوړل شرعاً دقبول وړ دي اوکه نه؟ او داسي نکاح جائزه ده اوکه نه؟

جواب: دهندې اسلام معتبر او صحيح دی اوددې سره دزيد نکاح هم صحيح ده [1] (باقي پرهنده باندي دهندوانو دطريقې پرې ښوول او داسلامي طريقې خپلول فرض دي. ظفير)

ددوو سکه خويندوسره يې نکاح وکړه ددوی داولاد په خپل مينځ کي نکاح جائز ده اوکه نه؟

سوال: ديوه سړي په نکاح کي دوې خويندي دي نو ددوی داولاد په خپل مينځ کي نکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: دوې خويندي په نکاح کي جمع کول حرام دي په دوی کي دمخکنۍ نکاح صحيح ده ددويمي خور نکاح چي وروسته سويده هغه صحيح نه سوه [2] او ددې سړي اولاد چي دمخکنۍ ښځي څخه سويدی ددې نسب ثابت دی او ددوهمي څخه يې چي کم اولادوسو نو دهغوی نسب ثابت نه دی او ددواړو نکاح به دشرطونو موافق صحيح وي. [3]

دکونډې مامي سره نکاح: **سوال**: (۳۴۹) کونډه هنده چي‌دبکرپه يورشته سره يعنی چي دپلار

= ص۹۷) کله چي په خپله دده لپاره حرامه نه ده نودده دزوی لپاره په اولی درجه حرامه نه ده بلکه جائزده. ظفير

[1] ينعقد النكاح بالايجاب والقبول الخ عند حرين بالغين او حر وحرتين عاقلين بالغين مسلمين (البحر الرآئق كتاب النكاح ص ۸۷ ج۳ ط.س. ج۳ ص۸۱). ظفير

[2] ولا يجمع بين اختين نكاحا ولا يملك يمين وطيا (هدايه فصل في المحرمات ص۲۷۲ ج۲) وحرم الجمع بين المحارم نكاحاً اى عقداً صحيحا وعده ولو من طلاق بائن (درمختار) اذا تزوجهما في عقد واحد فانه لا يكون صحيحا قطعا ولا فيما اذا تزوجهما على التعاقب وكان نكاح الاولى صحيح فان نكاح الثانية والحالة هذه باطل قطعاً (ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۹۰ ج۲ ط. س. ج۳ ص۳۸). ظفير

[3] که دا نکاح يوه په بلي پسې سوی وي نوجواب همدغه دی کم چي مفتي صاحب ورکړيدی، ليکن که يو ځای نکاح سوي وي نو ددواړو داولاد نسب ثابت دی او ددوی په مينځ کي واده په هيڅ قسم صورت سره نه دی صحيح ، بلکه په مخکني صورت کي هم دا داحتياط خلاف ده: وعدة المنكوحة نكاحا فاسدا فلا عدة في باطل وكذا موقوف قبل الاجازة احتياج لكن الصواب ثبوت العدة والنسب بحر (درمختار) قوله نكاحاً فاسداً هى المنكوحة بغير شهود ونكاح امرأة الغير بلا علم بانها متزوجة لنكاح المحارم مع العلم لعدم الحل فاسد عند الامام خلافاً لهما فتح الخ قلت: ويشكل عليه ان نكاح المحارم مع العلم بعدم الحل فاسد كما علمت معه انه لم يقل احد من المسلمين بجوازه وتقدم في باب المهر ان الدخول في النكاح موجب للعدة وثبوت النسب ومثل له في البحر (ردالمحتار باب العدة ص۸۳۵ ج۲ ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفير

یی دماما لور ده ترور هم ده اوسکه مامی یی هم ده اودبکر دمړی ښځی خاله هم ده نوآیا بکر دهندی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دبکر ماما که مړسوی وی اویاده طلاق ورکړی وی اوعده تیره سوی وی نودبکر نکاح په صورت مذکوره کی دهندی سره صحیح ده، لقوله تعالی: واحل لکم ماوراء ذالکم ، الآیة (النسآء: ۲۴).

دښځی دمرګ څخه وروسته ددی دوریری سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ **سوال:** (۳۵۰) دزید دښځی انتقال وسو اوس دزید نکاح دمرحومی دورور دلور سره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دمړی ښځی دوریری سره دزید نکاح جائزده ځکه چی دترور اودوریری په یووخت کی جمع کول ناجائزدی اوچی کله ترور مړه سوه اودزید په نکاح کی پاته نه سوه نوددی مرحومی دوریری سره دزید نکاح جائزده (ولا یجمع بین المرأة وعمتها. هدایه باب المحرمات. ظفیر)

دخلوت څخه مخکی یی طلاق ورکی نوبغیر دعدی څخه نکاح صحیح ده: **سوال:** (۳۵۱) هنده نابالغه په ولایت دولی دزید سره په نکاح سوه اوهم دنابالغتوب په حالت کی زید داپریښوولی اوبل وطن ته ولاړی نوچی کله هنده بالغه سوه نودزید دسکه کشر ورور عمر سره یی ناجائز تعلق جوړکی اوزید دنکاح دوخت څخه دهندی موصوفه سره هیڅ تعلق نه وو ساتلی په ډیرو پوهولو اوس په طلاق راضی سو نوآیا هنده دطلاق څخه وروسته بغیر دعدی دتیریدو څخه دعمر مذکور سره عقد کولی سی اوکه نه؟

جواب: که زید هندی ته اوس طلاق ورکی اوزید دهندی سره وطی اوخلوت نه وی کړی نوبغیر دعدی دتیریدو څخه دهندی نکاح دعمر سره صحیح ده اوکه زید خلوت کړی وی نودعدی څخه وروسته نکاح کیدی سی. ([1]) فقط

داکا دزوی واده دوراره دلور سره صحیح دی: **سوال:** (۳۵۲) دوی خوندی دی یوه داکا په نکاح کی ده اودوهمه دوراره په نکاح کی ده دیوې خور لور پیدا سوه اودبلی زوی دی، نو ددوی دواړو نکاح یو دبل سره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: کیدی سی. کما قال الله تعالی: واحل لکم ماوراء ذالکم ، الآیة ([2]) .

په نامناسبو شرطونو چی کمه نکاح وسی هغه صحیح ده اوکه نه؟ **سوال:** (۳۵۳) که یوه ښځه خپله نکاح دیوچا سره په داسی شرطونو وکړی چی په هغه کی داراز پټ وی چی ددی

([1]). قال لزوجته غیر المدخول بها انت طالق ثلاثا وقعن وان فرق بانت بالاولی لا الی عدة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب طلاق غیر المدخول بها ص۲۲۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۸۴ – ۲۸۲). ظفیر

([2]) سورة النساء : ۲۴. ظفیر

تعلقات ناجائزه چي ديوسړي سره مخکې دنکاح څخه دي هغه به دنکاح څخه وروسته هم وي اودا راز دخاوند څخه پټ وساتي اوپه مهملو خبروکې دهغه څخه ددې اقرار واخلي نوداسي نکاح چي ددې غرض اوبنياد يوسړي ددهوکې په دام کې منبلول اودده څخه مال حاصلول مقصود وي نودابه شرعًا جائزوي اوکه نه؟ اوددې راز دمعلوميدو څخه وروسته خاوند لره څه کول پکاردي؟

جواب: نکاح صحيح سوه (۱) باقي چي کمه وعده دده څخه په دي دهوکه اخيستل سويده داطلاع څخه وروسته به پرهغه کار بنديز وي.

جبرا چي کمه نکاح وسوه نوددې څه حکم دی؟ سوال: (۳۵۴) دزيد لور عمر وتښتوله او په بل ځای کې يې نکاح وکړه دزيد په فرياد باندې کليوالو دعمر په پلار اوپه بالغه خور دعمر جبر او زبردستي وکړه ددواړو څخه يې اجازه دنکاح واخيسته اودعمر دخور نکاح يې دزيد دزوی سره وکړه په دې صورت کې نکاح دمکروه صحيح ده اوکه نه؟

جواب: فقهاؤ تصريح کړيده چي په اکراه سره نکاح صحيح ده پرسړي باندي اکراه وي او که پرښځې اوهمدا صحيح ده ددې وجه څخه په صورت مسئوله کې نکاح عند الاحناف صحيح سوه. کما فی الشامی بل عباراتهم مطلقة فی ان نکاح المکره صحيح کطلاقه وعتقه مما يصح مع الهزل ولفظ المکره شامل للرجل والمرأة الخ شامی (۲) ص ۲۷۱ ج۲. اقول وفی الحديث ثلاث جدهن جد وهزلهن جد الحديث، وعد ﷺ فيهن النکاح. (۳) فقط

دغائب سره يې نکاح وکړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۳۵۵) زيد دهندې نکاح دخپل زوی بکر عاقل بالغ غائب سره وکړه چي ليرې ملازم دی. ددوو درو مياشتو څخه يې خط او تنخواه هم نه ده راغلې نوآيا دنکاح مذکور مخکې درد يا دقبول څخه په قول سره وی اوکه په فعل هنده رجوع کولی سی اوکه دوهم ځای نکاح وکړی نوآيا نکاح بات به نکاح موقوفه باطله کړی: والملك البات اذا ورد علی الموقوف ابطله، شامی جلد رابع ص ۱۴۲. اوپه وخت دعقد کي ژوند اومرګ مشکوك وو. اودنکاح څخه وروسته هم يوه مياشت تيره سوه اوهيڅ خبر رانغی نوپه داسي صورت کی بکر عند العقد مجيز کيدی سی اوکه نه؟

---

(۱) ولکن لا يبطل النکاح بالشرط الفاسد وانما يبطل الشرط دونه يعني لوعقد مع شرط فاسد لم يبطل النکاح بل الشرط (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۴۰۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۳). ظفير

(۲) رد المحتار کتاب النکاح ص ۳۷۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱. ظفير

(۳) مشکوٰۃ باب الطلاق ص ۲۸۴. ظفير

جواب: هنده دخپل ايجاب څخه مخکی دبل قبول ترڅو چی دبکر دقبول اودرد علم نه وی رجوع نه سی کولی اونه بل ځای نکاح کولی سی قال ﷺ ثلث جدهن جد وهزلهن جد الحديث ([1]) ولعدم جريان المساوتة فی النكاح بخلاف البيع. اودبکر مرګ چی ترکمه متحقق نه وی یا دقاعدی دمفقود مطابق دده دمرګ حکم ونه سی ترهغه پوري دی مجيز کيدی سی.

ښځه دخاوند دزوی سره دخپلی لور نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۵۶) يوسړی ديوی کونډی ښځی سره نکاح وکړه ددی دمخکنی خاوند څخه يوه لور ده اوس داسړی مړ سو دده يو زوی دی اوس که داهلك ددغه انجلی سره نکاح کوی نودا صحيح ده اوکه نه؟

جواب: که ددی سړی دازوی دبلی ښځی څخه وی يعني ددی کونډی څخه نه وی چی ددی دالور دمخکنی خاوند څخه ده نونکاح ددی دواړو صحيح ده ([2]) اوکه دازوی ددی سړی ددی ښځی څخه وی چی دا انجلی يی هم لورده نوبيا ددوی نکاح صحيح نه ده ([3]).

ديو دوه طلاقو څخه وروسته دوباره نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۵۷) يوحافظ ديوی ښځی سره نکاح وکړه اوددی کالی يی خرڅ کړه اوحج ته ولاړی بيرته چی راغی نودې ته يی طلاق ورکی اودکور څخه يی وايستله اوس ځو ورځی وروسته يی ورسره بيا نکاح وکړه جائزده اوکه نه؟

جواب: دوباره نکاح کول ددی سره جائزده ([4]) (که دری طلاقه يی نه وی ورکړی. ظفير)

دايی وويل چی که دفلانی سره نکاح وکړم نودخپلی لور سره به نکاح کوم بيايی ورسره نکاح وکړه صحيح ده اوکه نه؟ سوال: (۳۵۹) زيد عمرته وويل چی که تا دهندی سره عقد وکی نوګويا دخپلی لور سره عقد کوی زيد داقبوله کړه ځو ورځی وروسته يی دهندی سره عقد وکی نوپر عمر څه کفاره سته اوکه نه؟

جواب: دعمر داخبره خطاده ددی شرعا هيڅ اعتبار نسته نه يی څه اثر پرحرمت دنکاح دهندی سته نوکه عمر دهندی سره نکاح وکړه نونکاح صحيح سوه اوپرعمر هيڅ نسته.

دتعليق دنكاح بالشرط مفهوم: **سوال**: (۳۶۰) فقهاء ليکی چی په تعليق کي دنکاح په شرط

([1]) مشکوٰة باب الطلاق ص ۲۸۴. ظفير

([2]) واما بنت زوجة ابيه اوابنه فحلال (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۳ ج۲. ، ط.س. ج۳ ص ۳۱). ظفير

([3]) ځکه چي په دې صورت کی دواړه حقيقي ورور اوخور دی دی اودخور سره نکاح حرامه ده: حرمت عليكم امهاتكم وبناتكم واخواتكم (سورة النساء ۴). ظفير

([4]) وينكح مبانته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة مطلب فی العقد علی المبانة ص۷۳۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۰۹). ظفير

پوری به شرط لغو وی اونكاح به صحيح وی ددی څه معنٰی ده چی آیازید دخپلی لور واده په دی شرط وکی چی ناکح دنكاح څخه وروسته دوهم واده یافلانی کاروکی نودابه طلاق وی آیا ددی شرط په واقع کیدو سره طلاق واقع کیږی اوکه نه؟ که واقع کیږی نو دشرط دلغو کیدو څه معنٰی ده؟

جواب: دتعليق دنكاح بالشرط دامعنی ده چي نكاح په يوه شرط پوري معلقه کړي مثلا داچي که زما پلار راضی وی نوما نكاح کړيده اوکه هغه لغوه کړه نكاح به نه وی اوکه خاوند دنكاح څخه وروسته په يوشرط باندی طلاق معلق کی نوداتعليق دطلاق بالشرط دی، نه تعليق دنكاح كماهو ظاهر فی الدرالمختار: والنكاح لايصح تعليقه بالشرط كتزوجتك ان رضی ابی لم ينعقد (۱). فقط

دورور دبالغی کونډی سره فورا نکاح وکړی اوکه دعدی دختمیدو څخه وروسته: سوال:
(۳۲۱) دزيد نكاح ديوې نابالغی انجلۍ سره وسوه بيا شل ورځی وروسته زيد مړسو دزيد ورور ددی سره سمدستی نكاح كولی سی اوكه دعدی دتیریدو ضرورت سته؟

جواب: دمرګ عده لس ورځی څلور میاشتی تیرول ضروری دی ددی څخه وروسته نكاح كيدی سی په عده کی نكاح صحيح نه ده په درمختار کی دی: والعدة للموت اربعة اشهر الخ وعشر مطلقا وطئت ام لا ولو صغيرة الخ . (۲)

که يې وويل چي که دفلانۍ سره مي نکاح وکړه نودمور سره به نکاح وکړم ددی څخه وروسته ددی سره نکاح جائزده: سوال: (۳۲۲) دزيد نكاح دماما دلور جميلی سره كيدو والا ده خودڅه وجه څخه زيد قسم واخيستی چی که زه دجميلی سره نكاح وکړم نوګويا دخپلی مور سره نكاح كوم نودزيد نكاح دجميلی سره كيږی اوکه نه؟

جواب: دقسم په وجه دزيد نكاح دده دماما دلور جميلی سره حرامه نه ده بلكه نكاح مذكوره شرعا جائزده.

دمرتد کیدو څخه وروسته به ښځه دوباره اسلام راوړی نونکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال:
(۳۲۳) يوی ښځی اسلام پرې ښووی اوعيسايی سوه څوكاله وروسته يې بيا اسلام راوړی ددی ښځی دخپل خاوند سره دنوی نكاح دپاره دطلاق اخيستو ضرورت سته او که نه بی طلاقه نكاح كولی سی؟

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۴۰۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۵۳. ظفير

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة مطلب فی عدة الموت ص۸۳۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص۵۱۰ واما نكاح منكوحة الغير ومعتدته لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (رد المحتار باب العدة ص ۸۳۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۱۲). ظفير

جواب: په دی صورت کی بی طلاقه داول خاوند سره دوهمه نکاح کولی سی. (مګر هلته چی دری حیضه تیر سی. ظفیر) ([1]).

ددیرش کلنی کونډی نکاح داوو کالو دهلک سره صحیح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۳۷۴\) ددیرشو کالویوه کونډه ده ددی نکاح ددی په رضادیوهلك نابالغ اوه کلن سره وسوه جائزده اوکه نه؟

جواب: که ددی ښځی په رضامندی سره دنابالغه هلك ولی دنابالغ دطرفه څخه دده نکاح وکړي نوبیا نکاح صحیح ده. ([2]) فقط (ګواکي دداسي نامناسبه چاسره په دې زمانه کي نکاح صحیح نه ده).

دښځی دخور سره دزوی نکاح صحیح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۳۷۵\) زید دکلثوم سره نکاح وکړه خلیل اوعمر دوه زامن یی پیدا سول کلثوم مړه سوه بیازید دخیر النسآء سره نکاح وکړه دخیر النساء دسکه خور رابعه سره دخلیل نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دخلیل نکاح په دې صورت کی درابعې سره جائز ده. ([3]) فقط

پردی انجلۍ ته دسکه لور ویلو څخه وروسته هم ددی سره نکاح کولی سی؟ **سوال**: (۳۷۶\) دزید ناجائز تعلق دیوی ښځی سره وو په دی باندی زید رسوا سو نودالله ﷻ سره یی پخه وعده وکړه چی دابڼځه زما دسکه لور پشان ده که زه ددی سره عقد وکړم نوګویا دخپلی لور سره عقد کوم څلور میاشتی وسوی چی دمذکوره ښځی خاوند مړسو نوزید ددی ښځی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: زید ددی ښځی سره نکاح کولی سی شرعاً داامر صحیح دی پردی ښځی به دنکاح څخه وروسته طلاق نه عائد کیږی.

دنکاح څخه وروسته دښځی انکار: **سوال**: (۳۷۷\) دیوی ښځی نکاح دیوسړی سره وسوه په بله ورځ دخلګو په لمسون دابڼځه منکره کیږی چی زما نکاح زما درضا څخه بغیر جبراً سویده نوآیا دانکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح صحیح سوه ځکه چی په زور اوجبر په ایجاب او قبول سره هم نکاح کیږی ([4]).

([1]). ولو أسلم أحدهما أي أحد المجوسيين أو امرأة الكتابي ثمة أي في دارالحرب لم تبن حتى تحيض ثلاثا وتمضي ثلاثة أشهر قبل إسلام الآخر إقامة لشرط الفرقة مقام السبب وليست بعدة لدخول غير المدخول بها (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب النكاح الكافر ص۵۳۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۹۱). ظفير

([2]) ځکه چي دعمر دفرق هیڅ قید نسته چی مسلمان ښځه اوسړی وی اوایجاب او قبول اوشاهدان وی. ظفیر

([3]) واما بنت زوجة ابيه او ابنه فحلال (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب في المحرمات ص۳۸۳ ج۲، ط.س. ج۳ ص۳۱) کله چي دپلار دښځي دلور سره نکاح جائز ده نودهغې دخور سره خوپه درجه اولی جائز ده، بله یې هیڅ وجه دحرمت نسته، واحل لكم ما وراء ذلكم، سورة النساء : ۲۴. ظفير =

(مګر داپه دی صورت کی چی ښځی ایجاب اوقبول کړی وی اوکه داسی نه وی بلکی دښځی درضا معلومولو څخه بغیر ولی یافضولی نکاح وکړه نونکاح ونه سوه. ظفیر)

کافره چی مسلمانه سوه ددی سره نکاح: **سوال**: (۳۶۸) یوه کافره ښځه مسلمانه سوه اودیو مسلمان سره یی دمخکی څخه ناجائز تعلق وو نوددی نکاح په ایامو دعده کی جائز ده اوکه نه؟

جواب: که ددی ښځی خاوند په حالت دکفر کی نه وو نو داسلام څخه وروسته بی دعدی تیرولو څخه یی هم نکاح جائزده (۱).

چی کمه ښځه دی مچ کړه دهغې دلور سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۳۶۹) درحیم بخش خیال دی چی ده یووار دخپلی مامی بی بی صغری څخه مچه اخیستی وه یا دشهوت دوجه اویاپه ټوکه کی خویقین یی نه دی صرف احتمال دی. صغریٰ وایی چی داسی بالکل نه دی سوی نودرحیم بخش نکاح دبی بی صغری دلور سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی درحیم بخش نکاح دبی بی صغریٰ دلور سره جائزده (۲).

دانجلی څخه روپی اخیستل اونکاح کول: **سوال**: (۳۷۰) دیو سړی نکاح مقرره سوه بیا معلومه سوه چی انجلی کوچنی ده بیا ددی انجلی په بدله کی یې ورته بله انجلی مقرره کړه او دانجلی سره یی دوه سوه روپی ورکړی نودا صورت جائزدی اوکه نه؟ یعنی انجلی یې هم ورکړه اودوه سوه روپی هم؟

جواب: که ددوهمی انجلی اولیاء راضی وی نونکاح صحیح ده اودوه سوه روپی حرامي دي دا رشوت دی اوددی واپس کول پکاردی اودمخکی انجلی چی کم اولیاء دی هغوی ته ددی نکاح اختیار دی چی کم ځای یی مرضی وی هلته دی نکاح وکړی اوچی دچاسره یی نکاح مقرره سوی وه اوبیا نکاح ونه سوه نودده اختیار پردی انجلی نسته اونه داپه بدل کی ورکولی سی داجهالت (۳) دی.

داستاذ یادپیر دښځی سره نکاح صحیح ده: **سوال**: (۳۷۱) دخپل استاذ یادپیر دکونډې سره نکاح کول جائزدی اوکه نه؟ زید دیته ناجائز وایی نوزید مصیب دی اوکه خطاء؟

---

(۴) ان نکاح المکره صحیح کطلاقه وعتقه مما یصح مع الهزل ولفظ المکره شامل للرجل والمرأة (رد المحتار کتاب النکاح ص۳۷۳ ج۲. ط.س.ج ۳ ص ۲۱). ظفیر

(۱) ولواسلم احدهما ثم لم تبن حتی تحیض ثلاثة اشهر قبل اسلام الاخر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ص۵۳۲ ج۲ .ط.س.ج۳ ص۹۱) خوکه خاوند یې دسره نه وو نوبیا دعدی دتیریدو ضرورت نسته. ظ

(۲) ځکه چی په احتمال سره هیڅ حکم نه ثابتیږی. ان الیقین لایزول بالشك. ظفیر

(۳) اذا کان احد العوضین اوکلاهما محرمان لبیع فاسد ﴿ وکذا اذاکان غیرمملوك کالحر (هدایه ص۴۹ ج۳). ظ

جواب: دمړ استاذ یاپیر دکونډې سره دشاګرد یادمرید نکاح کول صحیح دی لقوله تعالٰی بعد بیان المحرمات: واحل لکم ماوراء ذالکم (۱) نودزید قول غلط دی اوزید په دی کی په خطاء دی.

دمنکوحی دپلار دکونډې سره نکاح جائز ده اوکه نه چی کمه دمنکوحی مورنه ده: **سوال**: (۳۷۲) شیر محمد دخپلی لور نکاح دخپل وراره محمد مراد سره وکړه حال دادی چی د شیر محمد دوی ښځی دی، شیر محمد مړسو نومراد دخپل دخسر دښځی سره چی دده سکه خوابنی نه ده نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دمحمد مراد نکاح دشیر محمد دښځی سره چی دده خوابنی نه ده جائزده (۲).

دحلالی په نیت دطلاقی سوی ښځی سره نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۳۷۳) دحلالی دپاره که زید دبکر دمطلقی سره په دی نیت نکاح وکړه چی دمباشرت څخه وروسته به طلاق ورکوم نوپه داسی حالت کی نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: نکاح جائزده (۳) (خوپه دي نیت سره نکاح کولو ته په حدیث کی بد ویل سویدی (۴).

دغیر مدخوله سره ددری طلاقو څخه وروسته دوباره نکاح: **سوال**: (۳۷۴) یوسړی خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړل خودغه سړی وایی چی خلوت صحیحه نه دی سوی اودی دهغې سره دوباره عقد کول غواړی نودا ښځه ده لره حلاله ده اوکه نه؟

جواب: چی وطی اوخلوت صحیحه نه دی سوی نوبی له حلالی مخکی خاوند ددی سره نکاح کولی سی (۵) ځکه چی غیر مدخول بها ته یې دری طلاقه جلا جلا ورکړی نودا په یوه طلاق بائنه کیږی اوباقی دوه طلاقه نه واقع کیږی کذا فی کتب الفقه (۶).

ښځه او ددی دخاوند لور په یوه نکاح کی جمع کول څنګه دي؟ **سوال**: (۳۷۵) یوه ښځه او ددی دخاوند لور چی دبلی ښځی څخه وی دواړه په یوه نکاح کی جمع کوی سی اوکه نه؟

---

(۱) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

(۲) واحل لکم ماوراء ذالکم (سورة النسآء: ۲۴). ظفیر

(۳) وکره التزوج للثاني تحریما لحدیث لعن المحل والمحلل له بشرط التحلیل الخ وان حلت للاول لصحة النکاح وبطلان الشرط الخ اما اذا اضمر ذلك لا یکره وکان الرجل ماجوراً لقصد الاصلاح وتاویل اللعن (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ص۷۴۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۱۴). ظفیر

(۴) فلفظ الحدیث کما فی الفتح لعن الله المحلل والمحللة (ردالمحتار ص۷۴۳ ج۲ ط.س. ج۳ ص۴۱۴). ظفیر

(۵) من طلق امرأته قبل الدخول بها ثلاثا فله ان یتزوجها بلاتحلیل قوله ثلاثا ای ثلاث طلقات متفرقات (رد المحتار ص ۷۳۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴۱۰ باب الرجعة). ظفیر

(۶) قال لزوجته غیر المدخول بها انت طالق وقعن الخ وان فرق بانت بالاولی ولم تقع الثانیة الخ (باب طلاق غیر المدخول بها ص۲۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۸۴ – ۲۸۲). ظفیر

جواب: هو! جمع کولی یې سی. کذاصرح به فی الدرالمختار لعدم علة الحرمة (۱).

دنکاح فسخ کولو څخه وروسته سمدستي نکاح کله جائزده؟ سوال: (۳۷۶\) یوامام دمسجد یوه نکاح وتړله دډوډۍ وړلو څخه مخکې مخکې په طرفینو کې ټکر وسو اوپه همدغه ورځ دماښام څخه وروسته په جرګه کی فسخ دنکاح وسوه بیا ددی ښځی نکاح موافق دشرع وسوه نوایا دا نکاح جائزده اوداسی نکاح تړونکی امام دجومات کیدی سی؟

جواب: که خاوند طلاق ورکړی وی او مخکی ددخول اودخلوت څخه طلاق سوی وی نو بی دعدی څخه دوهمه نکاح ددی ښځی صحیح ده اوکه مخکنی خاوند طلاق نه وی ورکړی اوجرګی دخپل ځان څخه طلاق ورکړی نو داطلاق واقع نه سو په دی صورت کی دوهمه نکاح ددی ښځی صحیح نه ده اوچاچی سره دعلمه دانکاح تړلی وی نوهغه لائق دامام جوړولو نه دی (۲).

دماما دطلاقی سوی ښځی سره واده جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۳۷۷\) عیدو نومي شخص خپلی ښځی ته طلاق ورکی عیدو چی دعبدالله په رشته کی ماما کیږی نو دعبدالله نکاح دعیدو دطلاقی سوی ښځی سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دعبدالله نکاح دعیدودطلاقی سوی ښځی سره دعدې دتیریدو څخه وروسته چی دری حیضونه دی جائز ده (۳).

هغه وراره چی په زوی یی نیولی وی هغه داکا دکونډې سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۷۸\) زید بی اولاده مړسو اوده خپل وراره په زوی نیولی وو دزید دمرګ څخه وروسته دده ښځه کریمه ددی متبنٰی زوی سره نکاح کول غواړی جائزدی اوکه نه؟

جواب: دزید دکونډې نکاح دزید دمتبنی سره شرعا صحیح ده ځکه چی په سبب دنص قطعی دزید متبنٰی دزید زوی نه دی، کما قال الله تعالی: وما جعل الله ادعیاءکم ابناءکم (سورة الاحزاب).

ترجمه: الله ﷻ هغه کسان چی تاسی په زامنو نیولی دی زامن نه دی ګرځولی یعنی متبنی دزوی په حکم کي نه دی ددی وجه څخه په موجب دنص: واحل لکم ماوراء ذٰلکم (۱)، نکاح په مینځ دمتبنی دزید او دښځی دمړ زید صحیح ده.

---

(۱) فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲. ط. س. ج۳ ص ۳۹). ظفیر

(۲) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ فلم یقل احد بجوازه اصلا (رد المحتار باب العدة ص۸۳۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۵۱۶، مطلب فی النکاح الفاسد والباطل). ظفیر

(۳) واحل لکم ماوراء ذالکم (سورة النساء:۲۴). ظفیر

دنصراني ښځې سره نكاح صحيح ده اوكه نه؟ سوال: (۳۷۹) ددی زمانی داهل کتابو مثلا دنصرانی ښځی سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: صحیح ده کما قال فی الدرالمختار: وصح نکاح کتابیة وان کره تنزیها مؤمنیة بنبی مرسل مقرة بکتاب منزل وان اعتقدوا المسیح [2] الها وفی الشامی ولکن بالنظر الی الدلیل ینبغي ان یکون الاکل والتزوج الخ قال في البحر وحاصله ان المذهب الاطلاق لما ذکر شمس الائمة في المبسوط من ان ذبح النصراني حلال مطلقا سواء قال بثالث ثلاثة او لا لاطلاق الکتاب ههنا الخ باب المحرمات [3] جلد ۲.

ليكل سوى شرطونه خطا دي او نكاح صحيح ده: سوال: (۳۸۰) زیدلاندینی مضمون دلیکلو دپاره بکر ته وایی:

۱. دمهر دبخښلو حق به انجلی ته نه وی بلکی مور اوپلار ددې ته به وی.

(۲) دخاوند دوه رشته داران به لس روپی په خپله ذمه واخلی.

ایا ددی شرطونو سره صحیح ده نکاح، اوداسی شرطونه واجب العمل دی.

جواب: اولنی شرط باطل اوخطا دی مور اوپلار ته به دمهر بخښلو اختیار حاصل نه وی انجلی ته به اختیاروی. اودوهم شرط هم باطل دی اوهم خطادی دخاوند پرذمه به نفقه لازمه وی چی څومره ضروریات دخوراك اوداغوستو دښځی خرچه ده دابه پرذمه دخاوند وی دخاوند درشته دارانو پرذمه لس روپی دمیاشتنی مقررول شرط باطل اوخطا دی او نکاح به صحیح وی خودا شرطونه به باطل وی [4].

دبی حياء ښځې سره نكاح جائزده اوكه نه؟ سوال: (۳۸۱) هنده غیر منکوحه بی حیاء ښځه ده ددی سره دزید نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: نکاح صحیح ده کما فی الدرالمختار [5]. فقط

دپلار دښځې دخور سره نكاح صحيح ده: سوال: (۳۸۲) یوسړی دیوی ښځی سره واده وکی

---

(1) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

(2) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۰. ظفیر

(3) رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۹۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۵. ظفیر

(4) والنکاح لایصح تعلیقه بالشرط الخ ولکن لایبطل النکاح بالشرط الفاسد وانما یبطل الشرط دونه یعنی لو عقد مع شرط فاسد لم یبطل النکاح بل الشرط (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۴۰۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۳). ظفیر

(5) وصح نکاح الموطوئة بزنا ای جاز نکاح من رآها تزنی وله وطئها بلا استبراء اماقوله تعالی والزانیة لاینکحها الازان فمنسوخ بایة فانکحوا ماطاب لکم من النسآء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۸). ظفیر

ددی ښځه یې یوزوی پیدا سو بیادی سړی بل ځای بل واده وکی ددی دوهمی ښځې دخور سره ددغه هلك نكاح جائزده اوكه نه اودغه انجلی ددی هلك دبدكاری ښځه حامله هم ده؟

جواب: ددی هلك نكاح دده دپلاردوهمی ښځی دخورسره جائزده ځكه چی داپه محرماتو كی نه ده. په: واحل لكم ماوراء ذالكم (۱) كی داخله ده اوچی داښځه ددی هلك دزنا ښځه بارداره ده نوددی هلك ددی حاملی سره نكاح په حالت دحمل اوجماع كول صحیح دی. كذا فی الدرالمختار (۲). فقط

دپردی په شرط یی نكاح وكړه اوس یی پرده ماته كړه څه حكم دی؟ سوال: (۳۸۳) زید دخپلی لور واده دعمر سره وكی داوخت داشرط وو چی دابه په پرده كی ساتی نوهلته به واده وركوم، نوپه دی عمر راضی سو اوواده یی وكی اوس دڅه زمانی ښځه وروسته عمر دپلار په وینا ددی پرده ماته كړه نودا نكاح باقی ده اوكه نه؟

جواب: نكاح باقی ده په خلاف دشرط كولو سره نكاح نه ماتیږی په درمختار كی دی: ولكن لایبطل النكاح بالشرط الفاسد وانما یبطل الشرط (۳) دونه، خو چونكه پرده كول فرض دی نودا بی شرطه كول هم ضروروی دی. اودشرط ښځه وروسته خوبیا ډیر ضروروی دی ددی وجه ښځه خاوند لره ددی خلاف كول نه دی په كار خوكه ددی خلاف یی وكی نوچی په دی طلاق معلق سوی نه دی، ددی وجه ښځه په خلاف كولو سره یې طلاق نه واقع كیږی رسول الله ﷺ فرمایی: احق الشروط ان توفوا به ما استحللتم به الفروج (۴) نوداسی شرط ضرور پوره كول په كاردی.

دانجلی دنكاح روپی اخیستل څنگه دی؟ سوال: (۳۸۴) زید دخپلی لور واده دبكر دزوی سره په دی شرط كوی چی ماته به دواده ښځه مخكی ته پنځه سوه روپی دمهر ددین ښځه علاوه راكړی چی زه دخپلو میلمنو میلمستیا باندی وكړم نو داروپی اخیستل اوپه دی شرط نكاح كول جائزدی اوكه نه؟

۲. زید دخپلی لور نكاح په عوض دزرو روپو مهر په دی شرط نكاح كول غواړی چی زر روپی قرض مهر به وی چی په دی كی به پنځه سوه روپی اوس معجل راكړی چی موږ دهنگیانو او دمیلمنو دخوراك خرڅ وكی په دی شرط نكاح كول اواخیستل څنگه دی؟

جواب: ۲-۱: دا رشوت دی وركول او اخیستل یې ناجائز دی: اخذ اهل المرأة شیئًا عند

---

(۱) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

(۲) وصح نكاح حبلی من الزنا الخ لونكحها الزانی حل له وطؤها اتفاقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۴۰۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۰). ظفیر

(۳) و(۴) ایضا ص ۴۰۵ ج۲. ظفیر

التسليم فللزوج ان يسترده لانه رشوة (۱) ، او نكاح صحيح ده.

۲. په دی صورت کی نکاح صحیح ده باقی که انجلی کوچنی وی نوکه څه هم پلار ته یی دمهر معجل دوصولولو حق سته خوپه مذکوره امورو کی ددی خرڅ کول جائزنه دی او ددی دپاره اخیستل ده لره صحیح نه دی، په درمختار کی دی: لاب الصغيرة المطالبة بالمهر وللزوج المطالبة تسليمها (۲)، وفی الشامی ادرکت وطلبت المهر من الزوج فادعی الزوج انه دفعه الی الاب فی صغرها واقر الاب به لایصح اقراره علیها لانه یملك القبض فی هذه الحالة فلایملك الاقرار به وتاخذ من الزوج (۳)، اوکه انجلی بالغه وی نو پلار لره یی ددی داجازې څخه بغیر دمهر دوصولولو حق نسته لکه چی دشامی دمذکوره روایت څخه ښکاره ده.

دیوې خور دزوی دبلې خور دلمسی سره نکاح کول جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۳۸۵\) مریم او خدیجه نومی ښځې سکه خوندی دی دمریم دسکه لور نوم کلثوم دی او دکلثوم سکه لور ده چی نوم یی مجید النساء ده، او دخدیجی زوی دی چی اصغر علی یې نوم دی، نو داصغر علی نکاح دمجید النساء سره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: داصغر علی نکاح دمجید النسآء سره په دی صورت کی صحیح ده هکذا فی کتب الفقه . واحل لکم ماوراء ذالکم . (النسآء: ۲۴). (۴) فقط

منکوحه دغیر چی دچاسره ګډون لری دهغه دلور سره دخپل زوی نکاح وکړی څه حکم دی؟

سوال: (۳۸۶\) یوسړی یوه ښځه حامله منکوحه دبل په خپل کورکی بی نکاح ساتلی ده وروسته دحمل زیږولو څخه انجلی وسوه ددی سړی دمخکی ښځی څخه زوی وو اوس ددی هلك او دانجلی نکاح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: ددواړو نکاح صحیح ده یعنی دښځی مذکوره دهغه لور سره چی دخاوند دنطفی څخه ده اوثابت النسب ده اودسړی مذکور زوی چی دده دښځی څخه دی په دوی کی نکاح صحیح ده، قال الله تعالی: واحل لکم ماوراء ذالکم (۵)، خومنکوحه دبل چا بی له طلاقه دخاوند څخه ، په کورکی ساتل حرام دی دوی جلا کول پکار دی. (۶)

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ص ۵۰۳ ج۳. ظفير

(۲) ایضا ص ۵۰۸ ج۲. ظفير

(۳) رد المحتار باب المهر ص ۵۰۸ ج۲. ظفير

(۴) ويحل لاصول الزانی وفروعه اصول المزنی بها وفروعها (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفير

(۵) سورة النساء: ۲۴. ظفير

(۶) ولا تقربوا الزنا فانه كان فاحشة وساء سبيلا (بنی اسرائيل: ۴). ظفير

دمیرنی خوابنی سره نکاح کول جائزدي: **سوال**: (۳۸۷\۱) زید دخپلی میرنی خوابنی سره نکاح وکړه جائزده اوکه نه؟

دنیکه دمیرنی ورور دلور سره نکاح کول جائزدي اوکه نه؟ **سوال**: (۳۸۸\۲) دزید دنیکه دوه ورونه وه یویې میرنیز اوبل سکه، زید دمیرنیز نیکه دلور سره یې نکاح وکړه دانکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: (۱) دمیره نیزی خوابنی سره نکاح جائزده کمافی الدرالمختار: فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها الخ ([1]).

(۲) دنیکه دورور دلور سره نکاح صحیح ده ([2]).

دښځی دمرګ څخه وروسته ددې دوریرې سره نکاح صحیح ده: **سوال**: (۳۸۹\۱) زید دیوی ښځی سره نکاح وکړه اوددی سره یې وطی وکړی دوه ماشومان هم وسول چې ژوندی موجود دی زید دښځی دمرګ څخه وروسته دښځی دسکه وریرې سره نکاح وکړه دانکاح جائزده اوکه نه؟ په شرح الوقایه اودرمختار کی یی دښځی دوریری او دخورزی نکاح حرامه لیکلی ده؟

جواب: دښځی دمرګ څخه وروسته ددې دوریری اودخورزی سره نکاح صحیح ده. په شرح وقایه کی چې دالیکلی دی چې دښځی دوریری اودخورزی سره نکاح حرامه ده ددی مطلب دښځی په وجودکی دی اوپه داسی حالت کی چې دادی په نکاح کی وی نوبیا ددې دوریری اودخورزی سره نکاح حرامه ده ځکه چې په حدیث شریف کی دی چې عمه او وریره په یوه نکاح کی جمع کول حرام دی دارنګه دخاله او دخورزی په یوه نکاح کی جمع کول حرام دی اوچی کله ترور په نکاح کی نه وی نوبیا دوریری او دخورزی سره یی نکاح جائزده. هکذا فی کتب الفقه ([3]). فقط

دشیعه تفضلیه سره نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۳۹۰\۱) دشیعه ؤ دتفضیلیه فرقي اوداهل سنت والجماعت په مینځ کی مناکحت جائزدی اوکه نه؟

جواب: دشیعه ؤ تفضیلیه فرقه چې تبرا ویونکي نه وی دا فرقه کافره نه ده که څه هم په اهل السنت والجماعت کی داخله نه ده مناکحت یی داهل السنت والجماعت سره صحیح دی ([4]). فقط

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۹. ظفیر

([2]) واحل لکم ما ورآء ذلکم. (النساء : ۴). ظفیر

([3]) حرم الجمع بین الامرأتین ایتهما فرضت ذکرا لم تحل للاخریٰ (ایضا ص۳۹۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۳۸). ظفیر

([4]) وتجوز مناکحة المعتزلة لانا لانکفر احدا من اهل القبلة وان وقع الزاما فی المباحث (درمختار) بخلاف ما =

دکونډې سره يې زنا وکړه بيايې نکاح وکړه صحيح ده اوکه نه؟ سوال: (۳۹۱) محموده کونډه اوزيد کونډ دی نوپه دواړو کی اشنايي سوه اوفعل دزنا وسو حمل وسو وروسته ددی څخه زيد داپه خپله په نکاح کی راوستله نودا نکاح جائز سوه اوکه نه؟

جواب: دزيد نکاح دمحمودې سره په دی حالت کی صحيح سوه ځکه چی دحامله عن الزنا سره په حالت دحمل کی نکاح صحيح کيږی اوچی خپله زانی ورسره نکاح وکړی نو بيا په حالت دحمل کی ورسره وطی هم صحيح دی کذا فی کتب الفقه (۱).

دورور دکونډې سره نکاح صحيح ده: سوال: (۳۹۲) غفور اوشکور دوه سکه وروڼه دی ددواړو واده وسو شکور مړسو نوغفور دده دکونډې سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دشکور دمرګ څخه وروسته چی دده کونډه عده دوفات لس ورځی اوڅلور مياشتی تيری کړی غفور ددی سره نکاح کولی سی. (واحل لکم ماوراء ذالکم، الآية (سورة النسآء: ۲۴). فقط

ښځی ته چی طلاق ورکول معلوم سی نودعدی څخه وروسته دوهم واده کولی سی اوکه نه؟

سوال: (۳۹۳) يوې ښځی ته ددی خاوند څو واره طلاق ورکړی خوپه وجه دشاهدانو نه کيدو عدالت يی نه منی آيا په دی صورت کی دغه ښځه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: چی کله ښځی ته يقينی معلومه وی چی طلاق سويدی نودعدی څخه وروسته دوهمه نکاح کولی سی اوعده به دهغه وخت څخه شمارل کيږی چی دکم وخت څخه خاوند طلاق ورکړيدی. فقط

غير مدخول ته څو واره طلاق ورکول سو بيايي نکاح وکړه څه حکم دی؟ سوال: (۳۹۴) ديو سړی سره ديوی ښځی نکاح وسوه ده دواده څخه مخکی دخط په ذريعه طلاق ورکول شروع کړل اوډير واره يی په خولی هم وويل چی ما طلاق ورکړيدی. اوس ددې رشته دارانو دوباره ددې نکاح ددې سړی سره وکړه نودا نکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: غير مدخوله په يوه طلاق بائنه کيږی ددی وجه څخه دوهم يادريم طلاق پردی نه واقع کيږی (۲) نونکاح ددی ښځی دمخکنی خاوند سره بی له حلالی صحيح ده (۳). فقط

= اذا كان يفضل عليا اويسب الصحابة فانه متبدع لاكافر (رد المحتار فی المحرمات ص ۳۹۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵). ظفير

(۱) لو نكحها الزانی حل له وطؤها اتفاقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۰). ظفير

(۲) قال لزوجته غير المدخول بها انت طالق وقعن الخ وان فرق بانت بالاولی فلذا لم تقع الثانية (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غير مدخول بها ص۴۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۸۴ – ۲۸۲). ظفير

(۳) وينكح مبانة بها دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (ايضا باب الرجعة ص۷۳۸ ج۲، ط.س.ج۳ ص۴۰۹). ظ

(۳۹۵) **سوال**: **دښځې دميرې دمور سره او دخپل اکا دښځې سره نکاح جائزده اوکه نه؟**
دزيد په نکاح کی خالده ده اوهنده دخالد ميرنی مورده اودزيد سکه داکا ښځه هم ده کونډه سوه نو آيا دزيد نکاح دهندی سره دخالد په موجودګی کی صحيح کيږی اوکه نه؟
جواب: دزيد نکاح دهندی سره په حالت دوجود دخالده کی اوپه نکاح دزيد کی صحيح ده. په درمختار کی دی: فجاز الجمع بين امرأة وبنت زوجها ([1]. فقط

(۳۹۶) **سوال**: **په بائن طلاق سره دطلاقی سوی ښځی سره نکاح صحيح ده اوکه نه؟** زيد دخپلی بارداری طلاقی سوی ښځی په طلاق بائن سره په عده کی دننه نکاح کولی سی اوکه نه؟
جواب: که داپه دری طلاقو نه وی طلاقه نوپه عده کی نکاح کولی سی ([2]).

(۳۹۷) **سوال**: **داخښې دلور سره نکاح صحيح ده**: دزيد ښځه وفات سويده اوس زيد دخپل اخښې دلور سره نکاح کول غواړی چی کونډه ده او دزيد دمړه خوريې منکوحه پاته سويده اوس دزيد خور، اوښځه، اخښې دری واړه مړه دی دزيد ددی کونډی سره شرعا نکاح جائزده اوکه نه؟
جواب: نکاح دزيد ددې کونډی سره شرعا صحيح ده کذا فی کتب الفقه ([3]). فقط

(۳۹۸) **سوال**: **ديو يا ددوو بائنو طلاقو څخه وروسته هم خاوند ددې سره نکاح کولی سی**: زيد يوپوخ عمر سړی وو اودده ښځه آمنه دډير کم عمره ده دده دلمسی دعمر برابر ده زيد ځلورکاله کيږې چي مړسويدی اوس آمنه کونډه ده دزيدپه ژوندکی دآمنه ددی دهمزولی بکر سره رښتينی محبت سويدی، چی ترشپاړس کالو پوری يعنی دآمنه ترکونډې کيدو پوری داعشقِ صادق اومحبت په زړونو کی وو اودکونډ توب څخه وروسته آمنه اوبکر په رضامندی سره دخپل ميرنيزی اولاد دبيری څخه پټ عقد شرعی وکی په مينځ کی چی کله بکر په خپل ملازمت ولاړی نوپه دی ميرنيزی اولاد کی يوه پردی ډيره زبردستی وکړه اوددی سره يی ناجائز تعلق غوښتل خودآمنه نيت دخدای په فضل سره پرسيده لاره وو اوخپل خاونديي په پټه خبر کی اوازادی يی وغوښته نوبکر دمجبوری په حالت کی په ناخوانی دې ته طلاق ورکی اوپه تحريرکی يی دې ته ازادی ورکړه نواوس بکر اوآمنه بيا هم هغه تعلق پيدا کول غواړی نو شرعا څه حکم دی؟
جواب: بکرکه يوبل سړی وی‌دزيدلمسی نه وی‌نودآمنه نکاح چی ددووشاهدانوپه مخکی

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۰۹. ظفير
([2]) وينكح مبانة بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (ايضا باب الرجعة ص۷۳۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴۰۹). ظ
([3]) فجاز الجمع بين امرأة وبنت زوجها او امرأة ابنها الخ (ايضا فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲). ظفير

سویده صحیح ده بیاچی بکر دې ته طلاق ورکی هغه هم واقع سو اوس که دواړه دوباره نکاح کول غواړی نوکه بکر دری طلاقه صریح نه وی ورکړی بلکه یو یادوه طلاقه یی ورکړی وی اویایی کنایات دالفاظو دطلاق ویلی وی لکه ازادی وغیره نوپه دی صورت کی بی له حلالی بکر دآمنه سره نکاح کولی سی (۱) اوکه دری طلاقه یی په صریحو الفاظو ورکړی وی نوبیا بی له حلالی نکاح نسی کولی (۲).

(۳۹۹) سوال: صرف په دی ویلو سره چی ته می سکه خور یی یا سکه ورور نکاح نه حرامیږي: چی یوه انجلۍ نه سکه خورده اونه تی رودونکی خور دې ته که په خور سره اواز ورکول سی چی ته زماسکه خور یی اوته ماسکه ورور وګڼه نوآیا ددی عهد اوقول څخه وروسته ددوی واده کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی ویلو سره چی ته زما سکه خوریی یاما سکه ورور وګڼه ورور او خور کیږی نه اونه په محرماتوکی داخلیږی نونکاح ددی سره صحیح ده لکه الله ﷻ محرمات بیانوی اوفرمایی: واحل لکم ماوراء ذالکم (۳)، اوارشاد دی: ماهن امهاتکم ان امهاتکم الا اللائی ولدنهم (۴). فقط

(۴۰۰) سوال: روپی ورکول اودکونډی نکاح کول څنګه دی؟ په آهنګر (پښ \ لوهار) قوم کی دارواج دی چی بغیر دروپی ورکولو څخه دکونډی نکاح نه کوی نوایا دانکاح به جائز وی اوکه نه؟

جواب: نکاح به جائز وی خو روپی اخیستل او ورکول به ګناه وی (۵).

(۴۰۱) سوال: دخپل تره دلمسی دلور سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ یعقوب جی اومشائخ دواړه سکه وروڼه دی دیعقوب جی زوی اسحاق دی اودمشائخ لور ده آمنه بی بی، او دآمنه بی بی زوی دی داود. دده لورده حبیبه بی بی. نوداسحاق ولد یعقوب جی نکاح دحبیبه بنت داود سره صحیح ده اوکه نه؟ حبیبه بی بی داسحاق وریره کیږی.

جواب: مسماة حبیبه دیعقوب جی دورور دلمسی لور کیږی یادی داسی ووایي چی حبیبه دیعقوب جی دوریری لمسۍ ده اوپه محرماتوکی نه ده نوددی وجه څخه دیعقوب جی دزوی

---

(۱) وینکح مبانته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ص ۷۳۸ ج۲). ظفیر

(۲) ولاینکح مطلقة من نکاح صحیح نافذ بها ای بالثلاث الخ حتی یطاها غیره الخ (ایضا ص۷۳۹ ج۲). ظفیر

(۳) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

(۴) سورة المجادلة: ۱. ظفیر

(۵) اخذ اهل المرأة شیئا عند التسلیم فللزوج ان یسترده لانه رشوة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ص۵۰۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۵۲). ظفیر

اسحاق نکاح دحبیبی سره صحیح ده او داسحاق حبیبه سکه وریره نه ده (۱).

دښځې دطلاقونو ددعوی څخه وروسته نکاح صحیح ده: سوال: (۴۰۲) دخاوند دغائب کیدو څخه وروسته که ښځه دقاضی سره دطلاق دعوٰی وکړی اوبیان وکړی چی زما عده تیره سویده ایا قاضی دې ته په بل ځای کی دنکاح کولو فتوٰی په حواله ددرمختار چي: لو قالت امرأة لرجل طلقنی زوجی وانقضت عدتی لاباس ان ینکحها (۲)، ورکولی سی اوکه نه؟ او دارکم دوهم روایت ددی مخالف دی: امرأة اذا ادعت علی الزوج انه طلقها فهی للزوج ما لم یثبت الطلاق، نهایه.

جواب: په صورت مذکوره کی ددوهم سړی سره دنکاح اجازه ده او دروایت ثانی محمل دادی چی خاوند دطلاق څخه انکار وکی.

دغلطی نکاح څخه وروسته طلاق نه واقع کیږی ددی وجه څخه دوباره نکاح صحیح ده:

سوال: (۴۰۳) زید دهندی سره نکاح وکړه اوصحبت یی هم وکی خو علماء فرمایي چی دا نکاح صحیح نه ده زید هندی ته درې طلاقه ورکړل اوس زید دهندی سره دوباره نکاح کول غواړی نوبی دحلالی کیدی سی اوکه نه؟

جواب: که اوله نکاح صحیح نه وه فاسده وه په وجه دنه کیدو دبعضو شرطونو دصحت مثلا دنکاح دشاهدانو نه کیدل نو دداسی فاسدي نکاح څخه وروسته که خاوند دری طلاقه ورکړی نودا کالعدم دی اوبی دحلالی څخه ورسره دده نکاح صحیح ده لکه چی شامی ددرمختار ددی قول: لاینکح مطلقة من نکاح صحیح نافذ (۳) الخ، په شرح کی لیکلی دی: قوله من نکاح صحیح نافذ، احترز بالصحیح عن الفاسد وهو ما عدم بعض شروط الصحة ککونه بغیر شهود فانه لا حکم قبل الوطي وبعده یجب مهر المثل والطلاق فیه لا ینقص عدداً لانه متارکة فلو طلقها ثلاثاً لا یقع شيء وله تزوجها بلا محلل (۴) الخ ص **۵۳۷** ج۲ شامی.

خوسائل دسوال دجواب سره نقل کړی نه دی چی وجه دفساد دنکاح څه ده په دې صورت کی اوپه حقیقت کی نکاح فاسده ده اوکه نه ددی وجه څخه قطعی جواب نه سی لیکل کیدی چی بی حلالی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

چی پرکم هلک باندي په خپله تور دی دهغه سره یی دخپل دلور نکاح وکړه نو څه حکم دی؟

---

(۱) واحل لکم ما وراء ذالکم (سورة النساء ۲۴). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ص۸۴۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص **۵۲۹**. ظفیر

(۳) ایضا باب الرجعة ص۷۳۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۰۹. ظفیر

(۴) رد المحتار باب الرجعة ص۷۳۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۰۹. ظفیر

سوال: (۴۰۴) زید پریو هلك عاشق دی اوډېری مودی راهسی یی دځان سره ساتلی دی او لواطت ورسره کوی کله چی لواطت صراحةً دیوځو سړیو په نظر داسي ورغی لکه چی سلایی په رنجوني کی وهی اودوه ځلورواره په عین لواطت کی نیول سویدی اوپه ځوځو ځای کی تردی چی دابدنامی بل ملك ته هم ورسیدله دزید دبدنامی په سبب ګرځیدل مشکل سوه نودمجبوری په حالت کی دخپل ځان دخلګو په نظر کی دصفا کولو دپاره او دبدنامی دختمولو دپاره یې دهلك سره دخپلی لور نکاح وکړه اوس دانکاح شرعا جائزده اوکه نه؟

جواب: دانکاح شرعا صحیح ده. کما فی الشامی بیان المحرمات: اتی رجل رجلا له ان یتزوج ابنته (۱) ص۲۸۱ ج۲. فقط

که دبدلون واده وکړم ګویا دخپلی خور سره به یې کوم ووایی او ددې ځخه وروسته بیا واده وکړی نوځه حکم دی؟ **سوال**: (۴۰۵) چی که زه خپله خور ورکړم اوددی په بدله کی زه خپل واده وکړم نوګویا دخپلی خور سره به نکاح کوم اوس زید خپله خور ورکړه اوددی په بدله کی دیوی ښځی سره نکاح کول غواړی شرعا ځه حکم دی؟

جواب: دزید په دې وینا هیڅ هم نه کیږی اونکاح به ددواړو صحیح وی.

دایجاب اوقبول ځخه وروسته ښځه انکار کوی ځه حکم دی؟ **سوال**: (۴۰۶) یوسړی ددوو شاهدانوپه مخکی یوې ثیبې ښځی ته وویل زما دزوی سره نکاح وکړه اودی منظوره کړه ددی په جواب کی ښځی وویل ماته ستا زوی قبول اومنظور دی، خواوس ښځه انکار کوی وایی چی ماداسی نه دی ویلی اوشاهد شاهدی ورکوی چی ښځی دا الفاظ مذکوره ویلی دی، نوځه حکم دی؟ بینوا وتؤجروا .

جواب: چی دوه عادل شاهدان دمذکوره الفاظو شاهدی ورکوی نوپه صورت مذکوره کی نکاح منعقده سوه اودښځی دا انکار په وجود کی ددوو عادلانو شاهدانو معتبرنه دی. په درمختار کی دی: کزوجنی الخ فاذا قال فی المجلس زوجت اوقبلت الخ قام مقام الطرفین (۲) ویصح النکاح الخ . فقط

که یوه مسلمانه ښځه دمرتد کیدو ځخه وروسته بیا مسلمانه سی نو دبل سړی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۴۰۷) چی یوه مسلمانه ښځه مرتده سی اوپردی باندی ځه جبر نه سی کیدی که مسلمانه مرتده په ځه طریقه باندی مسلمانه سی اودا خپل خاوند ته دورتللو ځخه انکار وکړی په داسی حالت کی دبل مسلمان سره یی نکاح جائز کیدی سی

(۱) رد المحتار فصل فی المحرمات تحت قوله کوطئ دبر مطلقا ص۳۸۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۴. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۹. ظفیر

او كه نه؟

جواب: په هندوستان كې جبر كيدى نه سى ددى وجه څخه دلته دجبراً مسلمانولو حكم نه سى جارى كيدى خودا كيدى سى چې ددى ښځى سره ثوك بل مسلمان نكاح ونه كړى چې دامجبوره سى اودمخكنى خاوند سره بيانكاح وكړى (١) (يعنى چې كله مسلمانه سى نو دمخكنى خاوند په خواهش به يى هم دده سره نكاح كيږى دبل سره نه خوكه مخكنى خاوند خاموشى اختيار كړى ياهغه يى نه كوى نودبل سره يى بيا نكاح جائزده. ظفير)

دزانى داولاد واده دمزنيى داولاد سره صحيح دى اوكه نه؟ سوال: (۴۰۸) زاهد خان دشكور بيگم سره زناوكړه څه موده وروسته دزاهد خان واده دجمالو بيگم سره وسو اودجمالو بيگم دبطن څخه كالى خان يوهلك پيداسو دشكور نكاح دجنگى خان سره وسوه دشكور دبطن څخه دجنگى خان لور سفيده بيگم پيدا سوه نودكالى نكاح دسفيده بيگم سره كيدى سى اوكه نه؟

جواب: دكالى خان نكاح دسفيده بيگم سره شرعا صحيح ده. علامه شامى ددى تصريح كړيده چې دزانى اودمزنيې په اولادونو كې مناكحت صحيح (٢) دى.

ددوو ميرنيزو خوندو نكاح ددوو ميرنيزو سره صحيح ده: سوال: (۴۰۹) ديوې مورڅخه دوى خوندى دى اوپلرونه يى جلادى اوديوى مور څخه دوه ورونه دى اوپلرونه يى جلادى كه دمشر ورور سره دمشرې خور چې دبل مور اوپلار څخه دى اودكشرى خور دكشر ورور سره چې دبل مور اوپلار څخه دى نكاح وسى نوجائزدى اوكه نه؟

جواب: ددوو خوندو ددوو ورونو سره نكاح داسى كول چې ديوى خور نكاح ديوه ورور سره اودبل ورور دبلى خور سره وسي نودا صحيح ده. مثلا زيد اوعمر دوه ورونه دى سكه وى اوكه ميرزي اوهنده اوخالده په خپل مينځ كې خوندى دى نوكه دزيد نكاح دهندى سره اودعمر نكاح دخالدى سره وسى نوشرعا څه حرج نسته. فقط

چې دكمى ميرزى خوابنى سره زناوكړى نوددى سره نكاح صحيح ده اوكه نه؟ سوال: (۴۱۰) ميرزى خوابنى چې دپنځو شپږو كالو راهيسى كونډه وى او حامله وى ددى سره شرعا

---

(١) ولو ارتدت لمجئ الفرقة الخ وتجبر على الاسلام وعلى تجديد النكاح زجرا لها مهر يسير كدينار وعليه الفتوىٰ وافتى مشائخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجرا وتيسيرا (درمختار) قوله وعلى تجديد النكاح فلكل قاض أن يجدده بمهر يسير ولو بدينار رضيت أم لا وتمنع من التزوج بغيره بعد إسلامها. ولا يخفى أن محله ما إذا طلب الزوج ذلك، أما لو سكت أو تركه صريحا فإنها لا تجبر وتزوج من غيره لأنه ترك حقه بحر ونهر (رد المحتار باب نكاح الكافر ص۵۴۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۹۴). ظفير

(٢) ويحل لاصول الزانى وفروعه اصول المزنى بها وفروعها (ردالمحتار باب المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۲). ظفير

نکاح کیدی سی اوکه نه اوریدلی می دی چی دا امید هم ددی میرزی زوم دی؟
جواب: دمیرزی خوابنی یعنی دبنځی دپلار ددوهمی بنځی سره نکاح صحیح ده اوچی دا حامله عن الزناده اودحاملی عن الزنا سره شرعا نکاح صحیح ده ددی وجه څخه دمیرزی خوابنی سره نکاح صحیح ده کما فی الدرالمختار: وصح نکاح حبلی عن الزنا انتهی ملخصا، اوچی کله حمل هم دمیرزی زوم څخه دی نوبیا ددی سره صحبت هم صحیح دی کذا فی الدر المختار (۱).

دلیور سره دکونډې نکاح صحیح ده: **سوال**: (۴۱۱) یوی بنځی دخاوند دمرګ څخه دری کاله وروسته دخپل لیور سره نکاح وکړه جائزده اوکه نه؟ خاندان پرسړی اوبنځه سل روپی جرمانه ولګوله شرعا څه حکم دی؟
جواب: په دی صورت کی ددغه بنځی نکاح دخپل لیور سره شرعا صحیح ده پردی باندی څه الزام شرعا نسته بلکه داکار دثواب دی (۲).

دپیر سره نکاح صحیح ده: **سوال**: (۴۱۲) که یوه بنځه دخپل پیرسره نکاح کول غواړی نو دمریدی نکاح دپیر سره صحیح ده اوکه نه؟
جواب: دمریدی نکاح دپیرسره شرعًا صحیح ده (۳). فقط

دایی وویل چی که نکاح وکړم نومور او خور به می وی بیا یی نکاح وکړه نوڅه حکم دی؟
سوال: (۴۱۳) زید که دیوڅو سړیو سره پرقرآن کریم لاس کښیږدی اوجناب پیر محبوب سبحانی ضامن کړی اوپه ژبه داووایی که ما دهندی سره نکاح وکړه نودا به زما مور او خوروی اوبیایې ددی سره نکاح وکړه نوآیا شرعًا به داجائزوی دعلاقی یوعالم نکاح ونه کړه زید مولوی صاحب دمسجد امام ته بی حیاء ښکنځل وکړل حال دادی چی دی دزید استاد هم دی په دی صورت کی دزید څه حکم دی؟
جواب: په درمختار کی دی که حرف تشبیه په داسی صورت کی حذف سی نودا خطاده یعنی ظهار وغیره هیڅ هم نه کیږی کما قال اوحذف الکاف لغا (۴) الخ، درمختار، نوپه دی صورت کی که زید ددی بنځی سره نکاح وکړه نوهیڅ طلاق اوظهار وغیره نه کیږی او نکاح به صحیح وی، اودعلاقی دمولوی صاحب نکاح نه تړل غالبا ددی مسئلې دنه علم دوجه څخه وه خودزید ده ته ښکنځل کول اوبد ویل جائزنه دی اوبیا لاخاص چی دده

(۱) لو نکحها الزانی حل له وطؤها اتفاقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۹). ظفیر
(۲) و(۳) واحل لکم ما وراء ذالکم (سورة النسآء. ۲۴). ظفیر
(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار (ص۷۵۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴۷۰). ظفیر

استاد هم دی نوپه دی صورت کی خوزید لره گستاخی صحیح نه ده دا دزید څخه سخته غلطی وسوه اوگناه وسوه توبه دی وکاږی اوداستاد څخه دی معافی وغواړی.

دعیسایی ښځی سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۴۱۴) په دې وخت کی دعیسایی ښځی سره چی انگریزی او ولایتی وی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: جائزنه ده اوهم دا احتیاط دی په دی زمانه کې په روایاتو دفقه کی هم داراجح ده (۱) (جائزده لکه چی په خپله مفتی علامه لیکلی دی. خو داحتیاط خلاف ده. والله اعلم. ظفیر)

دیوخور سره دخپل زوی نکاح وکړی نودبلی خور سره یی په خپله نکاح کولی سی اوکه نه؟

سوال: (۴۱۵) زید دخپل زوی نکاح دخپل ماما دلور هندی سره وکړه نواوس دزید نکاح دهندی دسکه خور سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په دې کی څه حرج نسته دانکاح صحیح ده.

دښځی په وجود کی دهغه دمیرزی مورسره نکاح صحیح ده: سوال: (۴۱۶) زید دیوی ښځی سره نکاح وکړه اوددی سره یی صحبت هم وکی اوس ده ددی ښځی دمیرزی مور سره نکاح وکړه، په آیت د: حرمت علیکم امهاتکم، کي په اصولو سره حرام دی اود: موطوئه اب او دجد په اصولو کی داخل دی ایا دانجلی په نکاح کی دموجود کیدو په حالت کی دمیرزی خواښی سره نکاح جائزده؟ په فتاوٰی قاضی خان جلد اول باب النکاح ص۱۲۷ کی داسی لیکلی دی: قالوا کل امرأتین لو کانت احداهما ذکراً والاخرٰی انثی حرم النکاح بینهما لا یجوز ان یجمع بینهما الا في مسئلة اذا جمع بین امرأة وبین بنت زوج کان لها قبل ذلك فانه یجوز ذلك، په دی صورت کی جمع امراتین وسوه خو چی کله یی دښځی سره نکاح وکړه اوبیایی ددوهمی ښځی دلور سره نکاح وکړه نودا انجلی په دی صورت کی په اصولوکی نه وه ځکه چی دخاوند ددوهمی ښځی لورددی ښځی په اصولو (میرزی خواښی) کی داخله ده.

جواب: جمع کول دیوی ښځی اوددی دمیرزی مور په مینځ کی صحیح دی، ځکه چی قاعده دحرمت: ایتها فرضت ذکرا لم یحل للآخر، دلته موجوده نه ده ځکه چی که دیوه طرف څخه حرمت سته چی مخکنی منکوحه که سړی فرض سی نوددی دپلار موطوئه پر دې حرامه ده، خوکه ددی میرزی مور سړی فرض سی نوحرمت نسته. اوپه درمختار کی

(۱) وصح نکاح کتابیة وان کره تنزیها مومنة بنبي مرسل مقرة بکتاب منزل وان اعتقدوا المسیح الها (درمختار) ففي الفتح ویجوز تزوج الکتابیات والاولی ان لا یفعل الخ وتکره الکتابیة الحربیة اجماعاً لافتتاح باب الفتنة الخ (ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۹۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴۵). ظفیر

په دی صورت کي دجواز تصريح ده: فجاز الجمع بين امرأة وبنت زوجها الخ ([1]) نوښکاره ده چی هغه ښځه چی مخکی منکوحه ده دبلی ښځی یعنی ددی دمیرزی مور دخاوند لور ده.

ازاده ښځه مملوکه نه ده نکاح کولی سی: **سوال**: (۴۱۷) که یوه کونډه ښځه په وجه داولاد نکاح کول شرم ګنی خو دتنګستیا دګزاری په سبب دشاهدانو په مخکی خپل ځان بغیر دمعاوضی دبل سړی ملك کړی اوخپل ځان مملوکه کړی نودامذکوره ښځه به د: ماملکت ایمانهم په معنٰی کی به وی اوکه نه؟

جواب: دما ملکت څخه مراد مینځی دی ازاده ښځه دچا مملوکه نه سی کیدی. ددی سره که دقاعدی مطابق ایجاب اوقبول ددوو شاهدانو په مخکی وسی نونکاح صحیح کیږی دمهر نوم واخیستل سی اوکه نه مهر لازمیږی اوکه دمهر مقدار مقرر سوی وی نودغه مقدار لازمیږی کنې مهر مثل لازمیږی.

دخپلی میرزی خور دخاوند دلور سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۴۱۸) دچاند محمد نکاح دخپلی میرزی خور چی نوم یی سکونت دی دخاوند دلور زینب سره چی دخاوند دمخکی ښځی څخه ده جائزدی اوکه نه؟سکونت خپل میرزی وروړته شیدي هم ورکړیدی چی کله دا دیوبل خاوند په نکاح کی وه او دهغه څخه یی شیدي وي.

جواب: په دی صورت کی دزینب نکاح دچاند محمد سره صحیح ده.

دکونډی سره خپله او ددی دلوڼو سره دزامنو نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۴۱۸) خدابخش مړسو دده کونډه اوددی دکونډی دخدابخش دوی دری لوڼی موجوددی اوس مسمٰی عبدالهادی غواړی چی زه دخدابخش دکونډی سره خپله اودلوڼو سره یی دځامنو ودونه اوکړم نوداصورت دنکاح جائزدی اوکه نه؟

جواب: داصورت چی کم سوال کی ذکردی بلاترد دجائز اوصحیح دی چی دپلار نکاح ددغه ښځی سره اوددی دهغه لوڼو سره چی کم دمخکی خاوند نه دی دنوی خاوند دځامنو واده وسی نوداصحیح ([2]) ده اوداصورت آیت. واحل لکم ماوراء ([3]) ذالکم. کی داخل دی.

سړی وویل چی ددی ښځی په ژوندکی بله نکاح حرامه ده بیایی وکړه څه حکم دی؟ **سوال**: (۴۱۹) زید دخپلی ښځی په حق کی اقرار وکی چی داستا په ژوند کی زما دبلی ښځی

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۸. ظفیر
([2]) ولاباس بان يتزوج الرجل امرأة يتزوج ابنه بنتها اوامها (عالمگیری ص۲۹۴ ج۱. ط.ماجدیه ج۱ ص۲۷۷). ظ
([3]) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

سره نکاح حرامه ده که زید دوهمه نکاح وکړی نوڅه حکم دی څه صورت دجواز کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دزید داقول شرعًا غلط اوخطادی ځکه چی په حقیقت کی په شریعت کی ده لره ددی ښځی په وجود کی بله نکاح حرامه نه ده، بلکه جائزده کما قال الله تعالیٰ: فانکحوا ماطاب لکم من النسآء مثنٰی وثلٰث ورباع (۱) نودزید دوهمه نکاح کول صحیح دی. غایةً دی ته قسم ویل کیږی ځکه چی حلال حرامول په خپل نفس باندی قسم کیږی نوپه دی صورت کی چی دی نکاح وکړی نوکفاره دقسم به ورکوی اوکفاره دقسم لسو مسکینانو ته دوه وخته خوراك ورکول یالسو مسکینانو ته جامی اخیستل دی اوکه دانه سی کولی نو دری ورځی روژه نیول دی پرله پسی اوطلاق به پر یوه ښځه هم نه راځی.

چی روپی واخلی اودلور نکاح وکړی نووسوه اوکه نه؟ **سوال**: (۴۲۰) زید دخپلی لور نکاح په سل دوه سوه روپی دخالد سره وکړی نوجائزده اوکه نه؟

جواب: داسی قسم اخیستلوته فقهاء رشوت وایی چی ددی واپس کول واجب دی کمافی الدرالمختار: اخذ اهل المراة شیئا عند التسلیم فللزوج ان یسترده لانه رشوة (۲) الخ وفی رد المحتار وکذا لو ابی ان یزوجها الخ ای حتٰی یاخذ شیئا (۳) شامی جلد ۲ ص ۳۲۲.

دلیری رشتې دترور دخاند سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۴۲۱) وحیدن نومي لور دسینی دځلورو پنځوکالو راهیسی کونډه ده یوسړی عیدو دی چی هغه ته وحیدن دلیری رشتي څخه دترور خاوندوایی، ځکه چی دعیدومخکنی نکاح د(الله دی) نومي ښځی سره سوی وه چی دوحیدن دنیکه خور وه او دوحیدن په رشته کی ترور کیده هغه مړه سوه اوس دعیدو نکاح دوحیدن سره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دعیدو نکاح دوحیدن سره صحیح ده ځکه چی وحیدن دعیدو په هغه محرماتو کی نه ده چی دکمو سره نکاح حرامه ده الله ﷻ فرمایی: واحل لکم ماوراء ذالکم، (۴) الآیه. نونکاح دوحیدن دعیدوسره صحیح ده، اوپه دی کی څه شبهه اوترددنه دی پکار.

چی دېمی سره نکاح وکړی نو سمدستی ورسره وطی جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۴۲۲) یوسړی دبازارڅخه ډمه راوستله اوهم په دغه ورځ یی ددې سره نکاح وکړه اووطی یی وکړه نکاح

---

(۱) سورة النساء: ۴. ظفير
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ص۵۰۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۵۲. ظفير
(۳) رد المحتار باب المهر ص۵۰۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۵۲. ظفير
(۴) سورة النساء: ۲۴. ظفير

صحیح سوه اوکه نه اوعده به تیروی اوکه نه؟

جواب: نکاح ددی صحیح ده عده یا استبراء پردی لازم نه ده، قال فی الدرالمختار: او الموطوئة بزنا ای جاز نکاح من رأها تزنی وله وطؤها بلااستبراء (۱). فقط

دزوی دخوابنی سره واده جائزدي: **سوال**: (۴۲۳) یوسړی دخپل زوی دخوابنی سره نکاح کول غواړی که دده دزوی ښځه میره وی که ژوندی صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دواړو صورتونو کی جائز او صحیح ده (۲).

دښځی او دخاوند په مینځ کی اختلاف سو خاوند څو واره وویل ما پرې ایښی یی نو اوس نکاح څنګه کیدای سی؟ **سوال**: (۴۲۴) په ښځی اوخاوند کی جګړه وسوه خاوند ددروغو تور ولګوی اوښځه یی ډیره ووهله اودایی وویل چی ستانکاح فسخه سویده ښځی وویل طلاق نامه راکړه اوزما مهر راکړه خاوند ورته څو واره دا وویل ما پرې ایښی یې اوس ددی دواړو دوباره نکاح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دواړو کی دوباره نکاح کیدی سی نکاح دی وسی (۳).

دمرتد کیدو څخه وروسته چی مسلمانه سوه اوکمه نکاح یی وکړه صحیح ده؟ **سوال**: (۴۲۵) دمریم نومي ښځي خاوند مولابخش ژوندی دی، دابنځه دولس کاله مخکی دیو هندو سك جګت سنګ سره دخاوند دطلاق څخه بغیر وتښتیدله او دسك په مذهب کی دری کاله وه، بیادری کاله وروسته دواړه مسلمانان سول، جګت سنګ اسلامی نوم محمد عثمان کښې ښووی اودمریم نکاح دده سره وسوه یونیم کال وسو چی محمد عثمان مړ سو دمریم دوهمه نکاح دکرم الدین سره وسوه آیا دانکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: دابنځه په وجه دمرتد کیدو په سك مذهب کی دداخلیدو په سبب دمولا بخش دنکاح څخه ووتله (۴) نوچی وروسته دإسلام راوړو څخه ددی ښځی اودمحمد عثمان

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۹. ظفیر

(۲) ولا تحرم بنت زوج الام ولا امه ولا ام زوجة الاب ولا بنتها ولا ام زوجة الابن ولا بنتها (ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۸۳ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۳۱) ولا باس بان یتزوج الرجل امرأة ویتزوج ابنه بنتها او امها کذا في محیط السرخسي (عالمگیري کتاب النکاح باب المحرمات ص۲۹۴ ج۱ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۲۷۷). ظفیر

(۳) مفتی علامه (پرینبوول) لفظ کنایه وګرځوی چی په هغه سره په اول وار طلاق بائن واقع سو اوچی دوباره یې ووایه نوپه دی سره طلاق واقع نه سو ځکه چی قاعده داده چی: لایلحق البائن (درمختار) المراد بالبائن الذی لا یلحق هوما کان بلفظ الکنایة (ردالمحتار باب الکنایات ص۲۴۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۰۸) اوچی کله په یو بائن طلاقه سوه نواوس دوباره نکاح کولی سی: وینکح مبانته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ص۷۳۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۰۹). ظفیر

(۴) وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ص۵۳۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفیر

مذکور نکاح صحیح سوه اومحمد عثمان دمرګ څخه وروسته اودعدې دوفات چې لس ورځې اوڅلور میاشتې دي دتیریدو څخه وروسته دکرم دین سره نکاح یې صحیح ده ([1]).

عیسایي ښځه دحامله کیدو څخه وروسته مسلمانه سوه دهمدې سره نکاح وکړي نوصحیح ده؟

سوال: (۴۲۶\۱) زید دیوې عیسایي ښځې سره جماع کوي اودهغه څخه داښځه حامله کیږي چې کله دریمه میاشت تیره سي نودا ښځه اسلام قبول کړي اودزید سره نکاح ښکاره وکړي دانکاح جائزده اوکه نه؟

دحمل نسب: **سوال**: (۴۲۷\۲) دبچي په باره کې څه حکم دی؟

جواب: (۱) دانکاح صحیح ده. ([2])

۲. دبچي حمل چې کله دنکاح څخه مخکې دی اودې دنکاح څخه وروسته دشپږو میاشتو څخه مخکې پیدا سو نوبیا دده نسب دخاوند څخه ثابت نه دی ([3]).

یوه عیسایي کونډه ښځه مسلمانه سوه نو آیا ددې سمدستي واده جائزنه دی؟ سوال: (۴۲۸\) یوه عیسایي ښځه دیونیم کال څخه داسې کونډه ده په اسلام مشرفه سوه اونکاح کول غواړي زید وایي چې ترڅو درې حیضه نه وي تیرسوي نونکاح به صحیح نه وي اوبکر وایي چې په نوې مسلمانه څه عده نسته فوراً نکاح کول جائزدي په دې باره کې دچاقول صحیح دی؟

جواب: په دې صورت کې چې دادمخکې څخه کونډه وه سمدستي نکاح کولی سي داسلام څخه وروسته عده پردې نسته خوچې کمه کافره ښځه خاوند والاوي اومسلمانه سي نودهغې دپاره درې حیضه تیرول ضروري دي. دنکاح څخه په مخکې ([4]).

چې دکم هلک سره یې دخپلې لور واده وکي نودهغه دخور سره خپل واده کول څنګه دی؟

سوال: (۴۲۹) دزیدیوه لورده اودبکریوزوی اویوه لورده زید دخپلې لور واده دبکر دزوی سره وکي اودبکر دلور واده زید دخپل ځان سره کول غواړي نوآیاداصحیح دي اوکه نه؟

([1]) والعدة للموت اربعة اشهر بالاهلة وعشر من الایام بشرط بقاء النکاح صحیحا الی الموت مطلقا (ایضا باب العدة ص۸۳۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۱۰). ظفیر

([2]) و([3]) وصح نکاح حبلی من زنا الخ لو نکحها الزانی حل له وطؤها والولد له ولزمه النفقة (درمختار) قوله والولد له ای ان جاءت بعد النکاح به لستة اشهر فلو قل من ستة اشهر من وقت النکاح لایثبت النکاح ولا یرث منه الا ان یقول هذا الولد منی ولا یقول من الزنا الخ (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۸ – ۴۹). ظفیر

([4]) ولو اسلم احدهما ای احد المجوسیین او امرأة الکتابی لم تبن حتی تحیض ثلاثا او تمضی ثلاثة اشهر قبل اسلام الاخر اقامة لشرط الفرقة مقام السبب ولیست بعدة لدخول غیر المدخول بها (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب نکاح الکافر ص۵۳۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۹۱). ظفیر

جواب: دزید دلور نکاح دبکر دزوی سره اودبکر دلور نکاح خپله دزید سره صحیح دی. واحل لکم ماوراء ذالکم، الآیة سورة النساء : ۲۴.

دچا مرګ چی په ظن غالب سره وی دده دښځی سره واده کول کیږی او که نه؟ سوال:
(۳۴۰) زاهد په ریل کی نوکروو چی ریل دامروهه څخه روان سو نویومیل نیم چی ولاړی دپل دماتیدو دوجه انجن سره دخوړبو ډوبه سوه ددې څخه وروسته ډیرتلاش وسو خوڅه پته ونه لګیده دده ښځه حامله وه اوددی بچی پیداسو نوآیا دزاهد مذکوره ښځه دوهم واده کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی دزاهد مرګ په غالب ګمان سره ثابت دی ددی وجه څخه اوس دده ښځه دعدی دوفات دتیریدو څخه وروسته نکاح کولی سی ([1]).

دمنکوحه غیر مدخوله طلاقه سوی دلور سره دخپل زوی نکاح صحیح ده اوکه نه؟ سوال:
(۴۳۱) زید دهندی سره نکاح وکړه اوبی له خلوت صحیحه څخه یی طلاق ورکی او دزبیدې سره یی نکاح وکړه دزبیدی وروربکر دهندی سره نکاح وکړه دزبیدی دزید څخه زوی پیداسو اودهندی دبکر څخه لور پیدا سوه په دی دواړو کی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزبیدی دزوی نکاح دهندی دلور سره صحیح ده ([2]).

دیو ورور زوی او دبل ورور لمسۍ په دواړو کی نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۴۳۲) دیوه ورور زوی اودبل ورور لمسۍ په دواړو کی نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: په دواړو کی نکاح صحیح ده ([3]).

دډمی دلور سره نکاح جائزده اوکه نه؟ او ددی ناجائزه ګټه اخیستل څنګه دی؟ سوال:
(۴۳۳) که یوسړی دیوې ډمی دلور سره نکاح وکړی نوصحیح ده اوکه نه اوچی کمی روپی داورکړی چی په ښکاره دحلالی ګټی څخه معلومیږی ددی اخیستل اواستعمال صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دډمی دلور سره نکاح صحیح ([1]) ده او ددی ګټه چی دحرامو څخه وی نودا دی په استعمال کی نه راولی ددی حکم دادی چی مالکان یی معلوم نه وی نودا دی پرفقیرانو صدقه کړی.

([1]) اخبرها ثقة ان زوجها الغائب مات اوطلقها ثلاثا اواتاها منه كتاب علي يد ثقة بالطلاق ان اكبر رائها انه حق فلاباس ان تعتد وتتزوج (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار باب العدة ص۸۴۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۲۹). ظ

([2]) واحل لكم ما وراء ذالكم (سورة النساء: ۲۴). ظفير

([3]) ايضا. ظفير

دخپلې ښځې سره يې چې ځوک په زنا وليدې دده سره دخپلې لور واده جائزدې اوکه نه؟

سوال: (۴۳۴/) يوسړی دخپلې ښځې سره يوسړی په زنا وليدی، خوځوك يې شاهد جوړ نه سو اوزاني اومزنية منکردی په داسې صورت کې دخپلې لور نکاح ددغه زاني سړي سره کولی سي اوکه نه؟

جواب: داښکاره ده چې صرف دخاوند ليدل اوبيانول مثبت دزنا نه دي ترڅوچې يې څلور کسان دشرطونو مطابق ونه ويني نوزنا شرعا نه ثابتيږي. کما قال الله تعالی: فلولا جاءوا عليه باربعة شهداء فاذ لم ياتوا بالشهداء فاولئك عندالله هم الکاذبون ([2])، وفي الشامي الا اذا شهدا ثلاثة بالزنا والرابع بالاقرار له فتحد الثلاثة لان شهادة الواحد بالاقرار لاتعتبر فبقی کلام الثلاثة قذفا ([3]) البحر ص ۱۴۲ کتاب الحدود شامي ج۳. نوکلام دخاوند صرف قذف دی نوپه دی به حکم دحرمت دمصاهرت وغيره نه ثابتيږي اوددی ښځې دلور نکاح به دسړي مذکور سره صحيح وي.

دشيعه انجلۍ سره يې نکاح وکړه بيايې سني کړله او دوباره يې ورسره نکاح وکړه څه حکم دی؟ **سوال**: (۴۳۵/) زيد دده شيعه مور اوپلار په عمر دلسوکالو داستاد سره دسبق ويلو دپاره کښيې نوی داستاد په وينا دی سني سو، مور اوپلار دده واده ديوشيعه انجلۍ سره وکی زيد دواده څخه وروسته داهم سني کړله نو دنکاح دتجديد ضرورت سته اوکه نه؟ او زيد لره امامت کول صحيح دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کې چې زيد ښځه سنيه کړله زيد لره دديې څخه وروسته تجديد دنکاح ضروري دی اوامامت دزيد صحيح دی.

دنان او نفقې پربنياد قاضي نکاح فسخ کړه اوس دوهمه نکاح دده صحيح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۴۳۶/) ديوې دولس کلېزې انجلۍ نکاح ددی پلار په کفوکې وکړه دبالغيدو څخه وروسته ښځې داقسم دعوی په نوم دخاوند وکړه چې زما واده په کوچنوالی کې سويدی خو څه بيل ملاقات نه دی سوی اودزوجيت حقوق هم نه دی اداء سوی نه دنان اونفقه خبر اخستل سويدی وغيره وغيره، حاکم منصف نکاح فسخ کړه ددی په بناء ددغه ځای شافعي المذهب قاضي دخاوند مذکور په غير حاضری کې ددوو شاهدانو په مخکې ددی ښځې نکاح فسخ کړله څه موده وروسته دبل سړي سره دمذکوره ښځې نکاح وسوه آيا مخکې نکاح فسخ سويده اوکه نه اودوهمه نکاح صحيح ده اوکه نه؟

([1]) څه وجه دحرمت نسته ، واحل لکم ماوراء ذالکم (سورة النساء: ۲۴). ظفير

([2]) سورة النور.

([3]) رد المحتار کتاب الحدود ج۳. ظفير

جواب: مخکی نکاح فسخ سوه اودوهمه نکاح ددی ښځی صحیح ده اوتفصیل ددی داختلاف سره په کتابونو دفقه کی مبسوط دی، من شاء فلیراجع الیها فقط.

دشیعه تبرایی سره نکاح صحیح نه سوه ددوهم سره نکاح کوی سی: **سوال**: (۴۳۷\۱) دیوی ښځی نکاح دیوشیعه سړی سره چی هغه ته رافضی وایی وسوه ښځه داهل سنت والجماعت ده دا ددی خاوند دروافضو په رسمونو ادا کولو مجبوره کړله تردی چی تبراء ویل یی باندی هم وغوښتل چی کله دا ښځه دپلار کره راغله بیا دخاوند کورته ولا نه وړه تراوسه پوری چی دولس کاله وسوه دادخاوند کورته دتللو څخه منکره ده اوددی دخاوند خاندان ټول تبرایی دی اوښځه هم مجبوره وی نودشرع شریفی په رو سره ددی ښځی نکاح جائز سویده اوکه نه؟ اواوس بغیر دمذکوره خاوند دطلاق څخه دبل سړی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: رافضی تبرایی ته ډیرو فقهاؤ کافر ویلی دی او دمحققینو علماؤ داتحقیق دی چی کم سړی دحضرت عائشی رضی الله عنها دافك قائل دی یادحضرت علی رضی الله عنه دالوهیت قائل دی یادحضرت جبرئیل علیه السلام په وحی کی دغلطیدو معتقدوی نودا ټول سبب دکفر او دارتداد دی په اتفاق سره نو دداسی رافضی سره دسنیه ښځه نکاح نه کیږی اوبی له طلاقه بله نکاح کولی سی. هکذا فی الدرالمختار.

دسیدانو په خاندان کی واده جائز دی اوکه نه؟ **سوال**: (۴۳۸\۱۱) آیا دسیدانوپه خاندان کی واده جائزدی؟

دبزرگ دلور سره نکاح جائزده: **سوال**: (۴۳۹\۱۲) دیوبزرگ دلور سره نکاح کول جائزدی اوکه نه؟

دکونډی ښځی سره نکاح جائزده که ددی ولی خبر نه وی؟ : **سوال**: (۴۴۰\۱۳) آیا دکونډی ښځی سره هم بی دمشوری داولیاؤ څخه ددوو شاهدانو په مخکی نکاح جائزده؟

جواب: (۱-۲) جائز ده ([1]).

۳. دانکاح جائزده خوپه شرط ددی چی په کفوکی وی ([2]).

([1]) أن الرافضي إن كان ممن يعتقد الألوهية في علي، أو أن جبريل غلط في الوحي، أو كان ينكر صحبة الصديق، أو يقذف السيدة الصديقة فهو كافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدين بالضرورة (ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۹۸ ج۲، ط.س. ج۳ ص۴۲). ظفير

([2]) كه انجلی دسیدانو دکورنی وی نوددی کفو دقریشو دخاندان هلك دی كه هغه صديقی وی یا فاروقی یا عثمانی یاعلوی. اوکه هلك دسیدانو دکورنی وی نودده سره هره انجلی نکاح کولی سی کفو وی اوکه نه وی. الكفاءة معتبرة من جانبه ای الرجل لان الشريفة تابی ان تكون فراشا للدنی ولذا لاتعتبر من جانبها لان الزوج مستفرش وهذا عند الكل فلا تغيظه دناء الفراش وهذا عند الكل (درمختار) فإن حاصله : أن المرأة إذا زوجت =

وی ښووی یوسړی اوواده یی کړه دبل سره ، اوس ښځه انکار کوی نکاح به صحیح وی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۴۱) طلاقی سوی هنده بالغی ته خلګو یوسړی وښووی اوپه نکاح یی تیاره کړه بیا ددی په لاعلمی کی یی دبل سړی سره نکاح وکړه په حالت دخلوت کی هنده شور جوړ کړی چی داخو هغه سړی نه دی چی موږ ته ښوول سوی وو. نو آیا دا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: چی په دوهم سړی داښځه خوشحاله نه ده نونکاح منعقده نه سوه (۱).

دقادیانی سره چی کمی ښځی نکاح وکړه هغه بی طلاقه دبل سړی مسلمان سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۴۲) هنده نومی ښځه دزید مرزایی سره څه موده په نکاح کی پاته وه خوهنده ددوو کالو راهیسی دکور څخه تللی ده. اوس یومسلمان ددی سره نکاح کول غواړی آیا دمرزایی څخه دطلاق اخیستو ضرورت سته؟

جواب: مرزایی کافردی ددی وجه څخه دده سره دهنده نکاح نه وه سوی نو دمرزایی دطلاق ضرورت نسته او دهندی دبل مسلمان سره نکاح کول صحیح ده (۲).

دخاوند والا دښځی دهغه زوی واده چی دزنا څخه دی دزانی دلور سره جائزدی: **سوال**: (۱۴۴۳) دزید ناجائز تعلق دلاډو نومی ښځی سره وو، اودلاډو خاوند هم ژوندی موجود وو، په دی حالت کی دلاډو دزید دنطفی څخه هلك پیدا سو. داهلك بالغ سو نوزید خپله لور چی دمنکوحی ښځی څخه ده دی هلك ته په نکاح کړه دانکاح جائزه ده اوکه نه؟ درخصت څخه وروسته لاډو خپلی مړور قسمیه ته وویل چی ستا خاوند هم ستا دپلار دنطفی څخه دی ته جلا سه. په دی صورت کی انجلی دوهم عقد کولی سی اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی: الولد للفراش وللعاهر الحجر (۳) ددی حدیث څخه ثابته ده اوهمدا داحنافو مذهب دی چی دلاډو کم زوی پیدا سویدی که دزنا څخه وي اوکه دزید دنطفی څخه وی خوپه شریعت کی دا دلاډو دخاوند څخه دی اودده څخه دهلك نسب ثابت دی دا هلك به په شریعت کی دزید زوی نه ګڼل کیږی، ددی وجه څخه دزید

= نفسها من كفء لزم على الأولياء وإن زوجت من غير كفء لا يلزم أو لا يصح بخلاف جانب الرجل فإنه إذا تزوج بنفسه مكافئة له أو لا فإنه صحيح لازم (رد المحتار ص ۴۳۲ ج۳ باب الكفاءة. ط.س. ج۳ ص ۸۴). ظفير

(۱) لو استاذنها في معين فردت ثم زوجها منه فسكتت صح في الاصح بخلاف ما لو بلغها فردت الخ لم يجز لبطلانه بالرد (درمختار) لان نفاذ التزويج كان موقوفا على الاجازة وقد بطل بالرد (رد المحتار باب الولی ص ۴۱۲ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۷۰). ظفير

(۲) وحرم نكاح الوثنية بالاجماع (درمختار) ويدخل في عبدة الاوثان الخ كل مذهب يكفر به معتقده (ايضا باب المحرمات ص۳۹۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵). ظفير

(۳) مشكوة باب اللعان ص۲۸۷. ظفير

دلور نکاح دلاړو دزوی مذکور سره صحیح ده [۱] اودلاړو قول شرعا معتبر نه دی اوبی طلاقه دزید لور دبل چا سره واده نسی کولی.

دهلک واده دپلار دښځی دلور سره صحیح دی: **سوال**: (۴۴۴) زید اوبکر سکه ورونه دی زید یوه لور اویوه ښځه پریښوول اومړسو بکر دخپلی ورینداړ سره نکاح وکړه نوداولاد دنه پیدا کیدو په صورت کی بکر بل واده وکړی ددې ښځه یې نر اولاد وسو نو په دی صورت کی دبکر دزوی نکاح چی ددوهمی ښځی ښخه دی ددی بکر دبچندری یعنی دزید دلور سره صحیح دی اوکه نه؟ یوسړی ورته ناجائز وایی اوبل جائز نو دچا قول صحیح دی؟

جواب: په دی کی دوهم قول صحیح دی دبکر دزوی نکاح دده دبچندری لور سره صحیح دی: واحل لکم ماوراء ذالکم (سورة النسآء : ۲۴).

دکونډې ورینداړ سره نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۴۴۵) دکونډې ورینداری سره نکاح جائزده اوکه نه؟ یوسړی وایی چی مشره ورینداره دمور په درجه کی ده اوکشره ورینداره دلور په درجه کی ده اودمور اودلور سره نکاح حرامه ده. قاضی صاحب ددی په ردکی دا دلیل پیش کی: واحل لکم ماوراء ذالکم. داسړی وایی چی دورینداری دنکاح حرمت په: حرمت علیکم امهاتکم کی داخل دی اودی داهم وایی چی که داسی نه ده یعنی که دورینداری حرمت په حرمت علیکم امهاتکم کی نه وی داخل نوبیاخو په قرآن کریم کی دانا اودلمسۍ حرمت هم صفانه دی ذکر نوپکاردی چی دانا اولمسۍ سره دی هم نکاح صحیح وی اوقاضی صاحب دنورو کتابونو دحدیث اودفقه ښخه هم استدلالات پیش کړل خودی داټول ردکوی اووایی چی داسی صفا دقرآن کریم ښخه ثابته کړه چی دهغه ښخه دورینداري حلت ثابت وی مثلاً داسی یوآیت کیدل پکاردی چی یحل زوجة الاخ بعد العدة، اوس چی دشریعت ښه حکم وی هغه ولیکی؟

جواب: داسړی چی داوایی چی دورینداری حرمت په حرمت علیکم امهاتکم کی داخل دی غلط دی، لان زوجة الاخ لیست بداخلة فی الامهات عند احد [۲] اودا دعوه یی هم غلطه ده چی مشره ورینداره دمور په درجه کی ده اوکشر ویرانداړ دلور په درجه کی ده اوددی سړی دادعوٰی هم غلطه ده چی دانا اولمسۍ صفا حکم په قرآن کریم کی نسته او ددې وجه ښخه دانا اولمسی حرمت دلور په حرمت کی داخل نه دی، ځکه چی انا په

---

(۱) ویحل لاصول الزانی وفروعه اصول المزنی بها وفروعها (ردالمحتار باب المحرمات ص۳۴۴ ج۲. ط.س. ج۳. ص۳۲). ظفیر

(۲) فیراد بالام الاصل ایضا وبالبنت الفرع (البحرالرائق باب المحرمات ص۹۹ ج۳. ط.س. ج۳ ص۹۲. ظفیر

امهات کی داخله ده اولمسی. په بنات کی اودقرآن کریم دآیتونو څخه بل قوی دلیل نسته نوچې دمحرماتو دبیان څخه وروسته باری تعالی: احل لکم ماوراء ذالکم (سورة النسآء : ۲۴) وفرمایل نودکونډې وریندارې سره دنکاح جواز صفا ښکاره سو اوقاضی صاحب چې څه ویلی دی هغه صحیح دی دده مخالف سړی ددین اسلام مخالف دی چې څه وایی هغه جاهلانه کلام دی اواحادیث اوتفاسیر نه منل صریح الحاد اوکفردی اوداحادیثو انکار کول په حقیقت کی دقرآن کریم انکاردی ځکه چې په قرآن کریم کی حکم دی: وما اٰتاکم الرسول فخذوه وما نهاکم عنه فانتهوا (١) ددی وجه څخه اهل اسلام لره ددی مخالف خبره نه دی منل پکار اواوریدل یی هم نه دی پکار دده دصحبت څخه ځان ساتل پکاردی دده بی دینی اوکفر دده داقوالو څخه ښکاره ده . فقط

دخوریې او دماما دمدخولې سره نکاح صحیح ده: سوال: (الف (٢)\۴۴۶) دخوریی دمدخوله سره دماما او دماما دمدخوله سره دخوریی نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: داصورت صحیح دی اوپه:واحل ما وراء ذالکم (سورة النسآء ۲۴) کی داخل دی.

معلقه نکاح نه منعقده کیږي: سوال: (الف \۴۴۷) یوسړی طالب علم مخاطب کړی اوقسم یی واخیستی چې که ته هندوستان ته ولاړې اوعلم دی حاصل کی اوراغلی نوما تالره خپله لور صغیره درکړه اودی طالب العلم په همدغه مجلس کی وویل ماهم قبوله کړه اودا معامله دڅو معتبرو سړیانو په وړاندې سوی وه اوس دغه طالبِ علم سبق ووایه اوراغی اوانجلی بالغه سویده نونکاح په دی صورت کی منعقده سوی وه اوکه نه؟ اوددی انجلی نکاح دبل سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح صحیح نه ده سوی، کما فی الدرالمختار والنکاح لایصح تعلیقه بالشرط کتزوجك ان رضی ابی لم ینعقد النکاح الخ وفی الشامی قوله: قوله : والنکاح لا یصح تعلیقه بالشرط المراد أن النکاح المعلق بالشرط لایصح لا ما یوهمه ظاهر العبارة من أن التعلیق یلغو ویبقی العقد صحیحا (٣) شامی ص ۳۹۴ ج۲. نو چې کله ددی صغیره نکاح ددغه مذکور طالب علم سره منعقده نه سوه نوددی ولی ددی نکاح په بل ځای کی کولی سی.

دښځې په خبره اعتماد کول اونکاح کول صحیح دي: سوال: (ب\۴۴۶) دیوبل وطن مسافره

---

(١) سورة الحشر : ۷. ظفیر

(٢) په اصلي أردوفتاوٰی کي هم داشمېرمکرراغلی ۇ ځکه مودلته هم هغسي ولیکئ اوالف، باء مو ورکړه. حقاني

(٣) وګوره رد المحتار ومصری مطبوعه استنبول ص۴۰۵ فصل فی المحرمات. ظفیر

دلته راغله او دایی ښکاره کړه چې زما څوك وارث نسته اوزه خپله نکاح کول غواړم په تهانه کې دی رپورټ هم کړيدی چې زما دی نکاح وسی نویو مولوی صاحب رپورټ وکتی اولس روپی یی واخیستی اوددی نکاح یی وتړله دا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: ددی ښځی نکاح موافق ددی دبیان شرعا جائزده ([1]) غرض داچي په دی صورت کی دښځی دبیان موافق ددی سره نکاح کول په درجه اولی صحیح دی.

دیهودي یادعیسایي ښځی سره نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (ص ۴۴۷) آیا دیوې یهودی یا عیسایي ښځی سره بغیر ددې دکلمې ویلو څخه سره دیومسلمانه نکاح صحیح اوجائز ده اوکه نه؟

جواب: بی دکلمې ویلو څخه اودمسلمانولو څخه ددې سره نکاح کول ښه نه دی ځکه چی په کتابونو دفقه کی یې دې ته جائز لیکلی دی خومکروه یی ورته ویلی دی اوپه دی کی اختلاف هم دی ([2]) دنن سبا دعیسایانو دښځو سره بعضی فقهاء نکاح حرامه وایی. په هرحال دااختلاف څخه دځان ساتنی دپاره مناسب بلکه ضروری ده چی دیهودی یانصرانی ښځی سره هلته نکاح وسی چی دا مسلمانه سی ([3]).

دمیریزی ورور دښځی دلور سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۴۴۸) زید اوبکر میره نیز ورونړه دی بکر وفات سو دده کونډه هنده دعدی دتیریدو څخه وروسته دعمر سره نکاح وکړه دهندی دعمر څخه زینب پیدا سوه دزید اودزینب نکاح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزینب نکاح دزید سره صحیح ده ([4]). فقط

شیعه ښځی چی توبه وکښله نو دهغې سره نکاح جائزده: **سوال**: (۴۴۹) زید په قوم افغان اهل سنت والجماعت دیوی کونډې ښځی سره چی اصحابو ته به یی ښکنځل کول دایی ددی خیالاتو څخه خلاصه کړه اوپه خپله نکاح کی یی راوستل غواړی خوهغه ددی وجه

([1]) وحل نکاح من قالت طلقتنی زوجی وانقضت عدتی الخ وحاصله انه متیٰ اخبرت بامر محتمل فان ثقة او وقع فی قلبه صدقها لاباس بتزوجها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة ص۳۷۱ ج۵. ط.س. ج۳ ص ۴۲۰). ظفیر

([2]) وصح نکاح کتابیة وان کره تنزیها مومنة بنبی رسل مقرة بکتاب منزل وان اعتقدوا المسیح الیها (درمختار) فی فتح القدیر ویجوز تزوج الکتابیات والاولی ان لایفعل (رد المحتار باب المحرمات ص ۳۹۷ ج۲) فقوله والاولی ان لایفعل یفید کراهة التزیهة فی غیر الحربیة ومابعده یفید کراهة التحریم فی الحربیة تامل (رد المحتار باب المحرمات ص۳۹۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵). ظفیر

([3]) یجب ان لایاکلوا ذبائح اهل الکتاب اذا اعتقدوا ان المسیح اله وان عزیرا اله ولا یتزوجوا نساءهم قیل وعلیه الفتویٰ، ولکن بالنظر الی الدلیل ینبغی ان یجوز الاکل والتزوج (ردالمحتار باب المحرمات ص۳۹۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵). ظفیر

([4]) په دی کی څه وجه دحرمت نسته په: واحل لکم ما وراء ذالکم، کی داخل دی. ظفیر

ځکه مجبوره دی چی په تمامه علاقه کی به ده ته پیغور ورکول کیږی چی اهل سنت دغیر اهل سنت سره ځنګه واده کولی سی؟

جواب: دعلامه شامی دارایه ده چی سب (بښکنځل صحابه وو ته موجب دکفر نه دی بلکه موجب دفسق دی (۱) ددی وجه څخه دغه کونډه ښځه چی کله توبه وکاږی نوددی سره دسنی حنفی نکاح شرعا جائزده اودبعضو فقهاؤ په نزد سبب دصحابه وو موجب دکفر دی (۲). ددی وجه څخه ښه داده چی بی دتجدیده دایمان څخه ددی کونډی سره نکاح ونه سی، ترڅو چی نکاح بلاخلافه جائزسی اونکاح دغیر سید دسید سره جائزده ددی وجه څخه دخلګو داویل چی دغیر اهل بیت نکاح داهل بیت سره نسی کیدی غلطه ده (۳).

په دوو ورونو کی یوه دمیریزی مور سره زنا وکړ ه نوددی دواړو ورونو په اولاد کی واده جائز دی: سوال: (۴۵۰) دنجم خان دبي بي جاني دنس څخه دهغه څلور زامن پیدا سوه او دحیات نوري دنس څخه یې دوه زامن پیدا سوه دنجم خان دوفات څخه وروسته دهغه زوی پائنده خان چی دبی بی جاني څخه پیدا وو ترڅه موده دخپلی میریزی مور حیات نوري سره حرام کاری کوله اودوې درې نطفې حرامي پیدا سوې اوس پائنده خان اوقاسم خان چی دحیات نوري دنس څخه دی دخپل زوی اودلور رشته کوی، دپائنده خان زوی محمد عالم اولور خانم نوره ده، او دقاسم خان زوی میر محمد اولور ریشم جانه ده، دمحمدعالم نکاح دریشم جاني سره اودمیرمحمد دخانم نوري سره کول جائزدي اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح دمحمد عالم دریشم جاني سره اودمیر محمد دخانم نوري سره صحیح ده شرعا جائزده زنا کول که څه هم ګناه کبیره ده اوفسق اوفجور دی اوزانی اوزانیه چی ترکمه توبه ونه کاږی قابل دمتارکت دی خودزانی اودزانیې داولاد په خپل مینځ کی نکاح جائزده (۴). فقط

دمزنیې دلور سره یی نکاح وکړه اوس یی دغه انجلی پرې ښووله دمزنیې سره واده کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۴۵۱) زید دبکر دمنکوحه هندی سره زنا وکړه یوکال وروسته زید

(۱) بخلاف ما اذا کان یفضل علیا اویسب الصحابة فانه مبتدع لاکافر. (ج۳ ص۴۲ رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۳۷). ظفیر

(۲) فقریش معزیا للشهید من سب الشیخین اوطعن فیهما کفر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ص ۴۰۴ ج۳). ظفیر

(۳) فقریش بعضهم اکفاء بعض (درمختار) اشار به الی انه لا تفاضل فیما بینهم الخ (ایضا باب الکفاءة ج۳ ص۸۲ ، ط.س. ج۳ ص ۴۳۸). ظفیر

(۴) ویحل لاصول الزانی وفروعه اصول المزنی بها وفروعها (البحر الرائق فصل فی المحرمات ص۱۰۸ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۱۰۱). ظفیر

زانی دهندی مزنیې دلور (زینب) سره چې نابالغه ده نکاح وکړه اوس بکر وفات سو ددی وجه څخه زید دهندی مزنیی سره نکاح کول غواړی شرعا دانکاح جائزده اوکه نه؟ او زینب نابالغه غیر مدخوله ده.

جواب: زید دهندی مزنیه سره نکاح کولی سی ځکه چې کله ده دهندی دلور سره وطی نه وی کړی بلکه قبل الوطی یی پرېښوولې ددی مور هنده پرزید حرامه نه سوه په کتب فقه کی تصریح ده چې حرمت دمصاهرت په صحیح نکاح یاپه وطی راځی اوزید چې کله دهندی سره زنا وکړه نودهندی لور زینب پرده حرامه سوی وه ([1]) دزید نکاح ددی سره صحیح نه وه اوچي وطی هم نه دی سوی ددی وجه څخه حرمت مصاهرت ثابت نه سو ([2]).
والله اعلم

دمیریزی مور سره نکاح جائزده اوکه نه او دارنگه ښځه او ددی میره مور جمع کول څنګه دي؟ سوال: (۴۵۲) میریزی خواښې چې بی اولاده اوکونډه وی ددی سره نکاح جائزده او که نه؟ اوښځه او ددی میریزی مور یعنی ددی دپلار منکوحه په نکاح کی جمع کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: دمیریزی خواښې سره نکاح جائزده په دی کی دحرمت هیڅ وجه نسته: لقوله تعالیٰ واحل لکم ما وراء ذالکم (سورة النسآء: ۲۴) دجواز دنکاح سره ددواړو په مینځ کی جمع جائزده یعنی دمخکی ښځی په وجود کی ددی سره ددی میره مور هم ساتلی سی په کتب دفقه کی تصریح ده چې ښځه او ددی دخاوند لور په یووخت کی دیوسړی په نکاح کی جمع کیدی سی، په درمختار کی دی: فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها. الخ ([3]) . فقط

چې دچا لور دی په نکاح کی وی دهغه دکونډې سره نکاح کول څنګه ده؟ سوال: (۴۵۳) دزید لور چې دمخکی مړی ښځی څخه ده دعمر په نکاح کی ده نو دزید دوهمه ښځه دکونډې سره دزید دمرګ څخه وروسته عقد کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دعمر نکاح دزید ددوهمی ښځی کونډې سره جائزده، په در مختار کی دی چې جمع کول په نکاح کی ددی دواړو جائز ([4]) دی ځکه چې په دوی کی هغه قاعده دحرمت نسته کمه چې منصوص اومسلم ده چې په دوی کی کم یوسړی فرض

([1]) اذا فجر الرجل بامرأة ثم تاب یکون محرما لابنتها لانه حرم علیه نکاح ابنتها علی التابید (البحر الرائق فصل في المحرمات ص۱۰۸ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۱۰۱). ظفیر

([2]) اما تزوج الزانی لها فجائز اتفاقا (ایضا ص۱۱۴ ج۳). ظفیر

([3]). الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۹۱ ج۲، ط.س. ج۳ ص۳۹. ظفیر

([4]) فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل المحرمات ص۳۹۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۹). ظفیر

سی نودوهمه ښځه به حلاله نه وی داقاعده په دی صورت کی نه سی جاری کیدی.

چی کمه ښځه وایی خاوند طلاق راکړیدی ددی سره نکاح کول څنګه دی؟ سوال: (۴۵۴\) یوه ښځه دخپل خاوند سره بمبئ ته ولاړه څو ورځی وروسته دهغه ځای څخه بیرته راغله اوبیان کوی چی زماخاوند ماته طلاق راکی نوپه دی صورت کی ددی عقدثانی کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کی موافق دبیان دښځی چی څوك ددی مكذوب كوونكی نسته نو ددی عقد ثانی کول صحیح دی. درمختار ([1]). فقط

دکونډې داکا دښځی سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۴۵۵\) دکونډې داکا دښځی سره دعدی څخه وروسته نکاح جائزده اوکه نه زید وایی چی په قرآن مجیدکی یی اکا ته پلار ویلی دی نودکاکا ښځه حقیقی مور سوه ددی وجه څخه نکاح مطلقاً حرامه اوباطله سوه په تمامو کتابونو دتفسیر اوفقه کی دکاکا دښځی سره نکاح حرام وایی داشرعا صحیح ده اوکه نه؟

جواب: داکا دښځی یعنی دمړه اکا دښځی دعدی دتیریدو څخه وروسته نکاح جائزده ([2]) په قرآنکریم کی په رکوع: حرمت علیکم امهاتکم اللاتي، الآیه کی داکاښځه په محرماتو کی نه ده ذکر اوپه احادیثوکی هم داکا دښځي سره دنکاح دحرمت ذکرنسته داددی سړی جهالت اوګمراهی ده چی داسی باطله دعوه په دومره زور اوشور سره کوي، په یوکتاب دتفسیر اوفقه کی داکا دکونډې ښځی سره دنکاح دحرمت ذکر نسته، ومن ادعی فعلیه البیان. والله المستعان

نامرد سړی ښځه پریږدی نودا دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۴۵۶\) یوسړی ددوو کالو راهیسی نامرد دی اوخپله ښځه جلا کول غواړی نوددی ښځی نکاح بل ځای کیدی سی اوکه نه؟

جواب: چی کله داسړی نامرد دی اوپه خپله ښځه پرینښېدلو باندی راضی دی نوده ته دی ویل سی چی فورا خپلی ښځی ته طلاق ورکړه دطلاق څخه وروسته به ښځه ددری حیضو عده تیره کړی نوبیا دبل سړی سره نکاح کولی سی ([3]).

چاچی په عده کی نکاح وکړه اودری طلاق یی ورکړل ده لره بیا دنکاح کولو دپاره حلاله ضروری ده؟ سوال: (۴۵۷\) دهندی خاوند مړسو یوه میاشت وروسته بکر دهندی سره

([1]) وحل نكاح من قالت طلقني زوجي وانقضت عدتي (ايضا كتاب الحظر والاباحة ص۳۷۱ ج۵، ط.س. ج۶ ص ۴۰۲).
([2]) واحل لكم ماوراء ذالكم. سورة النساء: ۲۴. ظفير
([3]) واحل لكم ماوراء ذالكم. سورة النساء: ۲۴. ظفير

نکاح وکړه څه موده وروسته بکر هندی ته دری طلاقه ورکړل اوس یی بیا ساتل غواړی آیاچی کمه نکاح سوی وه هغه صحیح وه اوکه نه؟ اواوس چی بکر هنده په نکاح اخلی نودحلالي ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: دهندی متوفی عنها زوجها عده څلور میاشتی اولس ورځی وی ددی مودی پوره کیدو څخه مخکی چی کمه نکاح سوی وه هغه صحیح نه وه نوطلاق هم واقع نه سو اوس بی حلالي نکاح دبکر دهندی سره کیدی سی. هکذا فی الدر المختار (۱).

دکسب کوونکی ډمی سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سره ددی چی دا کسب هم نه پریږدی:

سوال: (۴۵۸) یوسړی دیوې زناکاری ډمی سره اوسیدی اوددی په زناکاری باندی به یی گذران کوی اوبیایی ددی سره نکاح وکړه ښځی به په خپل دستور زنا کوله آیا دانکاح ددی دیوث جائزده، یا داښځه دبل سړی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دمذکوره ډمی نکاح ددغه سړی سره صحیح سوه (۲) بیا دنکاح څخه وروسته هم دمذکوره ډمی زنا کول اودخاوند دانه بندول اوددی په حرام امدنی باندی گذران کول داټول کارونه حرام اوموجب دفسق دی اومذکوره خاوند دیوث اوفاسق دی خونکاح چی سویده هغه قائمه ده ترڅو چی دی طلاق ورنه کړی اوددی عده تیره نه سی. تردغه وخته پوری مذکوره ډمه دبل سړی سره نکاح نه سی کولی کذا فی کتب الفقه.

دکلی والی په رشته چی کم ورور دی دهغه دخور سره واده جائزدی: **سوال**: (۵۵۹) دزید اوعمر په مینځ کی نسبی تعلق نسته صرف په یوه کلی‌کی داوسیدو دوجه څخه په دواړو کی ملاقات دی نودزید دخور سره دعمر واده جائزدی اوکه نه؟

جواب: په دې مواخاة سره حقیقتا نسبی تعلق نه قائمیږی دعمر واده دزید دخور سره کیدی سی په دی کی دحرمت هیڅ وجه نسته دتبنّی یادمواخاة اثر پرنسبی سلسله نه پریوځی صرف په قول اواقرار سره نسبی ورورولی چی پرهغه دنکاح دحرمت مداردی نه راځی.

چی چاسره دخوښینی نکاح وه دخوښینی دمرګ څخه وروسته دده سره دوریرې واده جائز دی اوکه نه؟ **سوال**:(۴۶۰) دزید اودعمر په نکاح کی دوې سکه خوندی دی خودعمر ښځه

(۱) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (رد المحتار باب المهر ص۴۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۳۲). ظفیر

(۲) وصح نکاح الموطوئة بملك الخ اوبزنا ای جاز نکاح من رآها تزنی وله وطؤها بلا استبراء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۰). ظفیر

مړه سوه اوس زيد دخپلي وريرى نكاح دعمر سره كول غواړى جائزده اوكه نه؟
جواب: په دې حالت كى دعمر نكاح دزيد دوريرى سره جائزده شرعًا: لقوله تعالى واحل لكم ما وراء ذالكم [1]. فقط

چي دچا خاوند عيسايي سي هغه دوهمه نكاح كولي سي اوكه نه؟ **سوال**: (۴۲۱\) زماخاوند فتح محمد چك جمال والا علاقه بمبئ ته تللى دى چى دهغه متعلق دبمبئ په خطونو كى شهادتونه دى چى دى عيسايي سويدى نوشرعا زه نكاح كولى سم اوكه نه؟
جواب: په شامى كى دخانيه څخه منقول دى: قالت ارتد زوجى بعد النكاح وسعه ان يعتمد على خبرها ويتزوجها الخ [2] وفى جامع الفصولين اخبرها واحد بموت زوجها او بردته او بتطليقها حل له التزوج [3]، ددې عبارتونوڅخه واضحه ده چى په داسى خبرونو اعتماد كولى سى اودده ښځه دوهمه نكاح كولى سى دشاهدى شرعيه ضرورت نسته.

دورور دلسمې سره دخپل زوى نكاح جائزده اوكه نه؟ **سوال**: (۴۲۲\) بكر اوخالد سكه وروڼه دى دبكر دزوى نكاح دخالد دلمسۍ سره جائزده اوكه نه؟ زيد دى نكاح ته جائز وايي؟
جواب: په دى صورت كى دبكر دزوى نكاح دخالد دلمسى سره جائز ده. نودزيد قول په دى باره كى صحيح دى چى په: واحل لكم ما وراء ذالكم، [4] كى داخل دى.

دكونډې مامى سره نكاح جائزده: **سوال**: (۴۲۳\) دكونډې مامى سره نكاح كول صحيح دى اوكه نه؟
جواب: دكونډې مامى سره نكاح صحيح ده كما قال الله تعالى: واحل لكم ماوراء ذالكم. [5]

يوسړي چى كله ديوسړي دمرتدكيدو خبرورکى نودده نكاح فسخه سوه: **سوال**: (۴۲۴\) دزيد شل كاله سويدى چى خپله ښځه يى پريښى ده اوبل ملك ته تللى دى خطونه يى راځى يوسړى وويل چى ماده ته كورته دراتلو متعلق وويل نوده داوويل چى كله دخداى حكم وى ولاړ به سم بيايي وويل خداى اورسول څوك دى؟ اوقرآن څه شى دى؟ نعوذ بالله تعالى، خوډير سړيان بيا دده دمتقى كيدو شاهدى وركوى فى الحال ديوسړى په شاهدى اوپه قول دى مرتد ګرځولى سى اودده ښځى لره نكاح كول شرعا جائزدى اوكه نه؟
جواب: وفى جامع الفصولين اخبرها واحد الموت زوجها او بردته اوبتطليقهما حل له التزوج ولوسمع من هذا الرجل آخر له ان يشهد لانه من باب الدين فثبت بخبر الواحد

---

[1] سورة النساء: ۲۴. ظفير
[2] و[3] رد المحتار باب العدة ص۸۴۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۳۰. ظفير
[4] و[5] سورة النساء: ۲۴. ظفير

شامي جلد ثاني ص۲۱۲. ([1]) ددی روایت څخه معلومه سوه چی دده دښځی ددوهمي نکاح دجائز کیدو دپاره دیوسړی خبر هم کافی دی دده ښځه ددی سړی په خبر باندی چی ده الله ﷻ اورسول ﷺ اوقرآن پاك ته داسی وویل خپل ځان دی دده دنکاح څخه بهر وګنيي اوپه عده تیرولو سره بله نکاح کولی سی خوصرف دیوسړی په خبر به پرده حکم دمرتد نه کیږی ځکه اعتبار ددی خبر صرف دښځی دنکاح دجواز دپاره دی اودده دمرتدکیدو دپاره داثبوت کافی نه دی خاصکر چی کله نور خلګ ددی خلاف دده په اسلام اوپه اصلاح اوپه تقوٰی شاهدی ورکوی.

دښځی دهغه لور سره چی دمخکنی خاوند څخه ده دخپل زوی نکاح کول څنګه دی؟ سوال: (۴۲۵\۱) پیر بخش دبسم الله نومي مطلقي ښځي سره واده وکی بسم الله دخپل ځان سره دمخکی خاوند عبد اللطیف لور سردار بیګم په خپله غیږه کی راوړه چی پیر بخش لویه کړه بیا بسم الله مړه سوه اوس پیر بخش دسردار بیګم واده دخپل زوی عبدالعزیز سره چی دمخکی ښځی څخه دی کول غواړی نودا نکاح حلاله ده اوکه حرامه؟

جواب: داښکاره ده چی پیر بخش دسردار بیګم شرعی ولی نه دی نوکه سردار بیګم نابالغه وی نوپیربخش ددی دنکاح ولی نه دی ده ته اختیار ددی دنکاح نسته، اوکه سردار بیګم بالغه وی نوبیا ددی په اجازه اوکه نابالغه وی نوچی څوك ددی ولی دی هغه په خپل ولایت سره ددي نکاح دعبدالعزیز سره وکړی نوشرعا جائزده څه وجه دحرمت په دی کی نسته ځکه چی ددواړو میندی اوپلرونه جلا جلا دی. قال الله تعالی: واحل لکم ما وراء ذالکم ([2]) الآیة هکذا في الدرالمختار ([3]).

دطلاقی سوی ښځی نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۴۲۶\۱) یوسړی خپلی ښځی ته دخاندان په مخکی طلاق ورکړی یوکال وروسته دی ښځی نکاح وکړه، په مخکنی خاوند یې دڅه وجه څخه طلاق نامه ونه لیکله ددی ښځی دادوهمه نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

دمړی دپیغلی باکره لور سره نکاح څنګه ده؟ سوال: (۴۲۷\۲) دمړی دپیغلی لور چی باکره ده نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: (۱) چی طلاق ثابت دی اوعده هم تیره ده نودبل سره ددی نکاح صحیح ده دتحریری طلاق ضرورت نسته زبانی طلاق هم واقع کیږی ([4]).

([1]) وګوری رد المحتار للشامي باب العدة ص ۸۴۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۳۰. ظفیر

([2]) سورة النسآء، ۲۴. ظفیر

([3]) اما بنت زوجة ابیه او ابنه فحلال (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۸۳ ج۲.ط.س. ج۳ ص۳۱). ظ

([4]) من قالت طلقني زوجي وانقضت عدتي لاباس بتزوجها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر =

۲. ددی سره نکاح جائزده ([1]).

دکتابیه سره نکاح صحیح ده: سوال: (۱۴۶۸) دکتابیه حربیة سره نکاح صحیح ده او که نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی دکتابیه سره نکاح صحیح ده خومکروه تنزیهی ده اوپه شامی کی دی چی دکتابیة حربیة سره نکاح مکروه تحریمی ده اوپه دی زمانه کی نوره هم زیاته بده ده ولي چی موجب دفساد ددین ده. فقوله والاولی ان لایفعل یفید کراهة التزیه فی غیر الحربیة ومابعده یفید کراهة التحریم فی الحربیة ([2]) الخ شامی ج۲.

دمرید دمطلقی سره نکاح صحیح ده: سوال: (۱۴۶۹) یوپیر دخپل مرید دښځی سره دمرید دطلاق ورکولو څخه وروسته واده وکی آیاپه دی پیر خوڅه الزام نسته داسی کول صحیح دی اوکه نه؟ پرده دطعن کولو څه حکم دی؟

جواب: که دی پیر دمرید دښځی سره دده دطلاق او دعدی تیریدو څخه وروسته نکاح کړی وی نوشرعا پرده هیڅ الزام نسته اودشریعت داصولو موافق پرده څه مواخذه نسته پرده صرف ددی وجه چی دمرید دښځی سره یی نکاح وکړه طعن کول بی ځایه دی چی کم امر الله تعالی جائز اوحلال کړیدی په هغه کی دچا داعتراض څه کار نسته اونه دطعن احتمال، چی څوك طعن کوی هغه گنهگار دی.

دقادیانیت څخه چی څوک توبه وکړی دهغه سره نکاح جائز ده: سوال: (۱۴۷۰) دزید په باره کی داخبره مشهوره وه چی زید مرزایی دی خوبیا ده توبه کښلی وه پردی بناء یوه انجلی ده په نکاح کړی وه دنکاح څخه وروسته یومولوی صاحب دتحقیق دپاره یی زید ته راولیږی نوزید ددی ډیر سخت تردید وکی چی زما مذهب قادیانی نه دی اوډیر وخت وسو چی ما توبه کښلی ده اوپه شروع کی ما مرزا یومجدد اوبزرگ منی نبی می نه منی. نو پوښتنه دا ده چی دانکاح صحیح سویده اوکه نه؟

جواب: دسوال دلیك څخه دامعلومیږی چی دزید عقیده صحیح ده اودده عقیده موافق دمذهب داهل السنت والجماعت ده اودمرزا غلام احمد قادیانی معتقد نه دی. ددی وجه څخه ددغه انجلی نکاح ددی سړی یعنی زید سره صحیح سوه په نکاح صحیح کیدو کی په دی وخت کي هیڅ تردد نسته خوخدای دی نه کړی که زید دمذهب داهل سنت والجماعت څخه قادیانت ته رجوع وکړه نودغه وخت به سمدستی نکاح باطله سی ([3]).

= والاباحة ص۳۷۱ ج۵. ط.س. ج۳ ص ۴۲۰). ظفیر

([1]) واحل لکم ما وراء ذالکم (سورة النساء: ۲۴). ظفیر

([2]) وگوری رد المحتار للشامی فصل فی المحرمات ص۳۹۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵. ظفیر

([3]) وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجلا بلا قضاء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر =

بت پرست چې مسلمان کړي ورسره نکاح جائز ده اوکه نه؟ **سوال**: (۴۷۱) یوې بت پرستې ښځې خپل خاوند پرې ایښې دی اودیوه مسلمان سره ولاړه اودی مسلمان دا ښځه مسلمانه کړه اودمسلمانیدو څخه وروسته یې ددې سره نکاح وکړه نوپه دې حالت کې دا ښځه مسلمانه سوه اوکه نه؟ اوددې سره دمسلمان سړي نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې دا ښځه مسلمانه ده اودمسلمان سړي سره ددې نکاح صحیح ده چې کله پردې درې حیضه تیرسې اوکه حیض نه باندې راځې نوچې درې میاشتې باندې تیرې سي، نونکاح ددې مودې څخه مخکې صحیح نه ده که مسلمان ددې ښځې سره ددرې حیضو یاپه صورت دنه راتلو کې ددرې میاشتو دتیریدو څخه مخکې نکاح کړې وي نودانکاح نه ده منعقده ددرې حیضو یاپه صورت دنه راتلو دحیض کې ددرو میاشتو دتیریدو څخه وروسته دې نکاح وکړي (قال الشامي فاذا مضت هذه المدة صار بمنزلة تفريق القاضي الخ ص ۳۹۰ ج۲. کتبه رشيد احمد عفي عنه، الجواب صحيح عزيز الرحمٰن عفي عنه.

دبدلون نکاح صحیح ده: **سوال**: (۴۷۲) دزید دلور نکاح دبکر دزوی سره په دې شرط وکړه چې بکر به دخپلې لور نکاح دزید دزوی سره کوي، په دې طریقې سره شرعا نکاح څنګه ده؟

جواب: داصورت چې کم په سوال کې دی ته نکاح دشغار وایي ددې څخه ممانعت په احادیثو کې راغلی دی اومطلب دادی چې مهر دهر یوه هم دغه وي مثلا یوسړی دخپلې لور یادخور نکاح دبل سړي دزوی سره یا دده سره وکړي اومهر ددې داکړي چې دابل سړی به دخپلې لور یادخور نکاح دده دزوی یا دده سره کوي نو زموږ حنفي فقهاء وایي چې داصورت دشغار دی دکمو څخه چې په احادیثو کې منع راغلې ده باطل او ناجائزدی ددې وجه څخه که چاداسې نکاح وکړه نومهر مثل به په هریوه لازم وي اونکاح به صحیح وي ددې وجه څخه چې کمه وجه دممانعت وه هغه پاته نه سوه. په درمختار کې دي: ووجب مهر المثل في الشغار هو ان يزوجه بنته على ان يزوجه الاخر بنته اواخته مثلا معاوضة بالعقدين وهو منهي عنه لخلوة عن المهر فاوجبنا فيه مهر المثل فلم يبق شغارا (١) الخ وتفصيله مع الاعتراض والجواب في الشامي (٢). فقط

دا شرط کول بد دي چې څوک انجلي راکړي انجلي به ورکړم: **سوال**: (۴۷۳) چې کم خلک

= ص ۵۴۹ ج۲. ج۳ ص ۱۹۳. ظفير

(١) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المهر ص۴۵۷ ج۲، ط.س. ج۳ ص۱۰۷، مطلب نكاح الشغار. ظفير

(٢) وګورئ ردالمحتار للشامي باب المهر مطلب نكاح الشغار ص۴۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۰۲. ظفير

پردی تېنګ وی چی ترڅو مورِ ته په عوض کی دچا لور رانه کول سی مورِ به خپله لورنه ورکوو دداسی خلګو څه حکم دی اوددوی دافعل څنګه دی؟

جواب: داخیال جاهلانه اودا دجاهلیت رسم دی نبی کریم ﷺ دشغار څخه منع کړیده او دشغار تفسیر په حدیث پاك کی دادی چی یوسړی دخپلی لور نکاح دچاسره په دی شرط وکړی چی دی به دخپلی لور نکاح دده سره کوی اودمهر په ځای هم دادی نورڅه نه وی اوکه ددواړو مهر جلا جلا مقرروی لکه چی اوس رواج دی نوپه دی کی دواړي نکاحي صحیح دی په هرحال داخیال بددی چی داووایی چی زه به دخپلی لور نکاح دهغه چاسره کوم چی دخپلی لور نکاح زمورِ سره وکړی نودا پرېښوول پکاردی.

دولد زنا سره نکاح: **سوال:** (۴۷۴) دبی نکاح اولاد سره نکاح اورشته کول حرام دی اوکه نه؟

جواب: دبی نکاح اولاد سره رشته کول حرام نه دی (۱).

خبره یی دکشر زوی سره وکړه او بیایی په دهوکه مشر زوی ته په نکاح کړه څه حکم دی؟

سوال: (۴۷۵) دزید یوه لور دلسو کالو وه اودعمر دوه زامن وه یو دیوولسو کالو اوبل دشلو کالو وو، مشر زوی یی په یوه سترګه زخمی هم دی دزید دلور رشته دعمر دکشر زوی سره وسوه دواده تاریخ مقرر سو اوانجلی دعمر کورته رخصت سوه عمر په دهوکه سره دخپل مشر زوی سره ددی واده وکی دانکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: که دمشر زوی سره دانجلی دپلار ایجاب اوقبول سوی وی نو دده سره نکاح صحیح ده مثلاً عمر خپل مشر زوی مجلس دنکاح ته راوستی اوپه ده یی قبول کی او دانجلی پلار هم موجود وو چی دهغه څخه یي اجازه واخیسته نوپه دی حالت کی دمشر زوی سره یی نکاح وسوه (۲) اوکه صورت داوی چی زید خو دخپلی لور دنکاح اجازه دعمر دکشر زوی سره ورکړی وی اوعمر دمشر زوی سره وکړه نوبیا دانکاح دزید پر اجازه موقوفه ده که زید دا ردکړی اوانکار وکړی نودا باطلیږی (۳).

کتابیه ښځه په اسلام مجبوروول ناجائزدی اوکه نه؟ اوددی دنکاح طریقه څنګه ده؟ سوال: (۴۷۶) داهل کتابیی سره چی نکاح صحیح ده نومنکوحه په عقد دمسلمان کی بی پرده

---

(۱) ځکه چی دا په محرماتوکی داخل نه دی، واحل لکم ماوراء ذالکم دالله ﷻ فرمان دی. ظفیر

(۲) وماذکروه فی المرأة یجری مثله فی الرجل ففی الخانیة قال الامام ابن الفضل ان کان الزوج حاضرا مشارا الیه جاز ولو غائبا فلا (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۷۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۲). ظفیر

(۳) ځکه چي دمشر سره یې اجازه نه وه ورکړي، لو زوجه المامور به بنکاح امرأة وامرأتین فی عقد واحد لا ینعقد للمخالفة الخ (ایضاً ص۴۴۷ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۲۲). ظفیر

اوسیدی سی یاپه پرده کی اوپه اسلام به مجبورولی سی اوکه نه؟ اوعقد به دمسلمانانو په شان وی اوکه نه په بل شان؟

جواب: په پرده یی مجبورولی سی نه په اسلام اوعقد به دمسلمانانو په شان یعني ایجاب او قبول په مخ کي دشاهدانو کیدل په کاردی (۱) اواولاد به مسلمان وی کمافی الدر المختار: والولد یتبع خیر الابوین دینا (۲) الخ. فقط

په دی وعده ښځی طلاق حاصل کړی چی دفلانی سره به هیڅکله واده نه کوم اوس دده سره نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۴۷۷) رحمة النساء نومی ښځي دخپل خاوند عبدالستار څخه په ذریعه دعدالت په دی پنج نامه طلاق حاصل کړی چی ما رحمة النسآء داخبره منظوره کړیده چی زه به داحمد بیگ ولد بهادر سره هیڅکله نکاح نه کوم، که ویې کړم نونکاح به ناجائز وی ددی وجه څخه زموږ دجرگی په مخکی عبد الستار شرعی طلاق ورکړی اوپه لفظ ددرو طلاقو یوپه بل پسی یې دخپل ښځی والی څخه ایستلی ده، دده په مخکنی وار کی هم داصراحت سته چی مدعا علیه رضامند دی چی دی طلاق ورکوی اوښځي ته ماسوىٰ داحمد بیگ څخه دهرچا سره دنکاح کولو اونه کولو اختیار دی. ددی فیصلی څخه وروسته داحمد بیگ نکاح درحمة النسآء سره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی داحمد بیگ نکاح درحمة النساء سره کیدی سی ددی ثالثی فیصلی او ددغه دښځی داقرار هیڅ اثر به پرنکاح نه راځی اونکاح به صحیح وی (۳).

دزید دمخکی ښځی سره چی چا زنا وکړه نو دده دنکاح دزید دلور سره جائز ده اوکه نه؟

سوال: (۴۷۸) دزید دوی ښځی دی دمخکی ښځی څخه یی څه اولاد نسته اوددوهمی ښځی څخه یی دری انجونی دی خالد دزید دمخکنی ښځی سره نکاح وکړه دزید چی ددوهمی ښځی څخه لور ده دهغه سره دخالد نکاح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: هو! کیدی سی (۴).

دخپل اکا دلمسۍ سره نکاح څنگه ده؟ **سوال**: (۴۷۹) داکا دلمسۍ سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: داکا دلمسۍ سره نکاح صحیح ده. په: واحل لکم ماوراء ذالکم، کی داخله ده.

---

(۱) وینعقد بایجاب من احدهما وقبول من الاخر الخ وشرط حضور شاهدین الخ کما صح نکاح مسلم ذمیة عند ذمیین ولومخالفین لدینها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۲۱ - ۳۷۲ ج۲. ط.س.ج۳ ص۸). ظ

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ص۵۴۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۹۵. ظفیر

(۳) په دې کی څه وجه دحرمت نسته: واحل لکم ما وراء ذالکم. سورة النسآ: ۲۴. ظفیر

(۴) ځکه چی دا انجلی نه دمزنیه فرع ده اونه داصل. ظفیر (۵) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

ښځي ته يې طلاق ورکي اوددې دخور سره يې نکاح وکړه څه حکم دی؟ سوال: (۴۸۰) يو سړی خپلي ښځي ته طلاق ورکي دعدې دتيريدو څخه وروسته يې هم ددغه مطلقې دکشرى خور سره نکاح وکړه دانکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: دانکاح چي ددې دکشرى خور سره دعدې دتيريدو څخه وروسته وسوه صحيح ده ([1]).

دميرنۍ مور دهغه لور سره چې دبل خاوند څخه ده نکاح صحيح ده: **سوال**: (۴۸۱) دزيد پلار مړسو دده ميره مور هنده بله نکاح وکړه اوس دهندی لور پيدا سوه ددې دلور سره زيد نکاح وکړه دانکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: دزيد نکاح دهندی دلور سره چي ددوهم خاوند څخه پيداده شرعا صحيح ده ځکه چي په محرماتو اوقاعده دحرمت کی نه ده داخله په: واحل لکم ماوراء ذالکم (سورة النساء: ۲۴) کی داخله ده. ځکه چي دهندی دالور دزيد نه ميريزي خورده اونه سکه خور ده يعني نه يې دمور دطرفه اونه يې دپلار دطرفه خورده اونه سکه خورده بلکی دازيد ته پردی انجلی ده ددی وجه څخه حلاله ده.

چي يوه هندو انجلي مسلمانه سوه دبالغيدو څخه وروسته په رضاسره واده کولي سي: **سوال**: (۴۸۲) يوه هندی انجلی زيد مسلمانه کړه اوبالغه سوه زيد ورسره نکاح کول غواړی نکاح صحيح ده اوکه نه؟ اودزيد جائداد دې ته اوددې اولاد ته به ورکول کيږی اوکه نه؟

جواب: چي کله دا انجلي بالغه سوه اوپر اسلام قائمه ده نوددی په رضا سره ددی نکاح دزيد سره صحيح ده اوددی اولاد به دنکاح څخه وروسته دزيد وارث وی ([2]).

چي کله ښځه اوسړی دنکاح څخه انکاري وي نو دخلگو په ويلو سره نه کيږي: **سوال**: (۴۸۳) ښځه اوسړی دنکاح څخه انکار کوی اونور وايي چي نکاح سويده په دی صورت کی نکاح ثابته ده اوکه نه؟

جواب: چي ښځه اوسړی دنکاح څخه انکارکوی اونور خلگ وايي چي نکاح سويده نو نکاح نه کيږی. (خلاصه داده چي کله ښځه او سړی دنکاح څخه انکار کوي نو صرف داجنبي په ويلو سره نکاح نه ثابتيږي. ظفير)

سوال: (۴۸۴) نکاح په شرط دحلالی مسلمان حنفی مذهب والا لره جائزده اوکه نه؟ اودا ښځه به داول خاوند دپاره حلاله سی اوکه نه؟

([1]) واذا طلق امرأته طلاقا بائنا او رجعيا لم يجز له ان يتزوج باختها حتى تنقضي عدتها (هدايه ص۲۸۹ ج۲). ظ

([2]) فنفذ نكاح حرة مكلفة بلارضا ولى (درمختار) اراد بالنفاذ الصحة وترتب الاحكام من طلاق وتوارث وغيرهما (رد المحتار باب الولى ص۴۰۷ ج۲ . ط.س. ج۳. ص ۵۵). ظفير

جواب: نکاح بشرط الحلاله عند الحنفیة هم مکروه ده خوداول خاوند دپاره حلالیږی هکذا فی کتب الفقه. (۱) والله اعلم

هندو ښځه چې مسلمانه سي نو ددې سره نکاح صحیح ده: **سوال**: (۴۸۵) یو سړي یوه هندو ښځه مسلمانه کړه اوورسره یې نکاح وکړه داښځه نه لمونځ کوی اونه روژه نیسی او دهندوانو مندرونو ته ځی وغیره وغیره اوس دانکاح صحیح ده اوکه نه؟ دامسلمانه ده او که کافره؟ اواولاد یې چې دی حلال دی اوکه نه؟

جواب: لمونځ نه کول، روژه نه نیول زکوٰة نه ورکول گناه کبیره ده تارك دصلوٰة فاسق دی خوکافرنه دی لکه چې په حدیث پاك دی: وان زنٰی وان سرق، الحدیث، دا پر دی دال دی، اولا تکفره بذنب، راغلی دی نوپه موجب دفرمان دنبی کریم ﷺ من قال لااله الا الله دخل الجنة قلت وان زنی وان سرق قال وان زنی وان سرق الحدیث (۲) داښځه به مسلمانه گڼل کیږی اودمسلمان په شان معامله به ددی سره کیږی نکاح ددی دمسلمان سره په شرائطو پوره صحیح ده اودنکاح څخه وروسته چې کم اولاد پیداسو هغه ولد الحلال دی.

دمرتدي سره نکاح چې عیسایي سوې وې څه حکم دی؟ سوال: (۴۸۶) دیومسلمان ښځه منکوحه عیسایي سوه نوددی نکاح فسخ سوه اوکه نه؟ اوبیایي دوباره دیو مسلمان سره نکاح وسوه داصحیح وسوه اوکه نه؟ اودنکاح کوونکی اودنکاح تړونکی څه حکم دی دناکح په مخکی مسلمانه ښځه دده دنکاح څخه خارجه سوه اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجل (۳) الخ وصح نکاح کتابیة مؤمنة بنبی مرسل مقرة بکتاب منزل وان اعتقدوا المسیح الهًا وکذا احل ذبیحتهم علی المذهب بحر (۴) الخ درمختار. داول عبارت څخه معلومه سوه چې مخکنی نکاح یې په عیسایي کیدو سره فسخ سوه او ددوهم روایت څخه معلومه سوه چې دوهمه

---

(۱) وکره التزوج للثانی تحریما لحدیث لعن المحلل والمحلل له بشرط التحلیل کتزوجتك علی ان احلك وان حلت للاول لصحة النکاح وبطلان الشرط (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ص۷۴۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴۱۴). ظفیر

(۲) مشکوٰة کتاب الایمان ص ۱۴ . ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۵۳۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۹۳ باب نکاح الکافر. ظفیر

(۴) ایضا باب المحرمات ص۳۹۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵. دخاکسار مرتب په خیال کی دمرتدی اودکتابیة حکم جلا جلا دی فقهاء صراحت کوی چې دمرتد سره نکاح صحیح نه ده: ولایصح ان ینکح مرتدا اومرتدة احد من الناس مطلقا (درمختار) مطلقا ای مسلما اوکافرا اومرتدا او هو تاکید لما فهم من النکرة فی النفی (رد المحتار باب نکاح الکافر ص۵۴۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۰۰) وکذا المرتدة لا یتزوجها مسلم ولا کافر لانها محبوسة للتامل الخ (هدایه باب نکاح المشرك ص۳۲۲ ج۲) ددی وجه څخه په صورت مسئوله کی دمرتده عیسایي دوباره نکاح دمسلمان سره صحیح نه ده. ظفیر

نکاح ددی دمسلمان سره کـه وروسته دعـدی دتیریدو څخه وی صـحیح ده هـذا قـول الصاحبین فی الخانیة وفی قـول صاحبیه نکاحها باطل حتٰی تعتد بثلث حیض الـخ شامی، پرامام نکاح تړونکی شرعًا څه مواخذه نسته اوچی کم مسلمان ددی کتابیه عیسائیه سره نکاح کړیده دده مخکنی ښځه مسلمانه دنکاح څخه خارجه نه ده ددی نکاح هم باقی ده (حاشیه وګوره. ظفیر)

دحامله بالزنا سره نکاح جائزده: **سوال**: (۴۸۷۱) دحامله بالزنا سره نکاح جائزده اوکه نه او په جائز کی څه قید خو نسته؟ اوپه صحبت کولو کی حرج خونسته که سته نوولی؟

(۲) دیوسړی دیوی ښځی سره دځلورو کالو راهیسی تعلق وو اوس دی ښځی ددی سړی سره نکاح کړیده جائزده اوکه نه؟

الف: هلك چی کم پیدا سو هغه حرام دی اوکه حلال؟

ب: نکاح سنت ده اوکه فرض؟ دنکاح دقبولیت طریقه څه ده؟

ج: که قاضی په نکاح کی خطبه دنکاح ونه وایی نونکاح وسوه اوکه نه؟

د: خطبه دنکاح فرض ده اوکه سنت؟

هـ: دخپلی ښځی حاملی سره وطی ترکمه وخته جائز دي؟

و: دولادت څخه وروسته کله وطی وکړی؟

ز: سړی ښځی ته وویل ما طلاق درکی، طلاق وسو اوکه نه؟

۳. سړی ښځی ته وویل که زه ستاسره صحبت وکړم نودخپل مور اوخور سره بـه یې کـوم په دی ویلو سره ښځه دنکاح څخه ووتله اوکه نه؟

۴. سپی دخاوری لوښی وڅټی نو دا په پریمینځلو سره پاکیدی سی اوکه نه؟

۵. اودمِسو لوښی هم پاك کیدی سی اوکه نه؟

۶. په یوه میاشت کی دنکاح کولو ممانعت سته اوکه نه؟

۷. په کمه جامه کی چی تصویر وی نوپر هغه لمونځ کول صحیح دی اوکه نه؟

۸. داکا دکونډی ښځي سره نکاح جائزده اوکه نه؟

۹. دخورزی سره نکاح جائزده اوکه نه؟

۱۰. دکونډی مامی سره نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دحاملی عن الزنا نکاح جائزده، صحبت حرام دی تروضع دحمل پوری کـه نـاکح غیر وی دزانی څخه کنې صحبت هم صحیح دی، که دزانی سره یې نکاح او حمل هم دده وی، په حدیث کی ممانعت دحاملی دغیر سره دوطی څخه راغلی دی اوکـه ښځه دچا منکوحه یامعتده نه وه نونکاح صحیح ده کـه هلك دنکاح څخه شپږ میاشتی وروسته

پيداسو نودخاوند څخه دی اوولد الحرام نه دی (۱) اول دی دولی يا دښځی څخه ايجاب وکړی بيا دی خاوند ووايي چي ما قبوله کړه.

ب: سنت (۲) دی. ج: صحيح سو (۳) د: سنت (۴) دی. هـ. تراخره پوری جائزدی. (۵) او دنفاس دختميدو څخه وروسته. ز: طلاق وسو. ۳. دنكاح څخه نه ووتل. ۴. كيدی سی ۵. دمسو لوښی هم پاك كيدی سی. ۲. په يوه کی هم نه. ۷. که غټ تصويروی نومکروه دی اوکه کوچنی وی يانه معلوميږی نوصحيح دی. ۸. جائزدی.۹. ناجائز(۶) ۱۰. جائز ده.

چي دكمي انجلي، سره كوزده وسي دهغي دمور سره نكاح جائزده اوكه نه؟ سوال: (۴۸۸) يوسړی دهندی دپاره رشته وليږله نكاح لانه وه منعقده سوی چی ده هنده پرې ښووله او ددی پر ځای يی ددی دمور سره نكاح وکړه داجائز ده اوکه نه؟

جواب: دكوزده سوی (چی دچا صرف كوزده سوي وی) دمور سره نكاح صحيح ده ځکه چي دالا تراوسه دده په نكاح کی نه ده راغلی اودده ښځه سوی نه ده ددی مور په حکم دامهات نسائكم کی داخله سوی نه ده بلکی دمخطوبه مور ددی نكاح څخه په مخکی په آيت: واحل لكم ماوراء ذالكم (۷) په حکم کی داخله ده اوددی سره نكاح جائزده.

دمور داكا دلور سره نكاح جائزده: سوال: (۴۸۹) دمور داكا دلور سره نكاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: نكاح ددی هلك دغير حقيقی ترور سره صحيح ده (۸). فقط

دبنګي سره وروسته تراسلام راوړلو نكاح صحيح ده: سوال: (۴۹۰) يوه كونډه بنګی ښځه ديوقصاب كور ته راغله مسلمانه سوه دا ددی قصاب سره نكاح كول غواړی نونكاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: دمسلمانيدو څخه وروسته ددی ښځی نكاح دقصاب وغيره سره كيدی سی.

---

(۱) وصح نكاح حبلى من زنا لاحبلى من غيره وان حرم وطؤها ودواعيه (الى قوله) لونكحها الزانى حل له وطؤها اتفاقا والولد له (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۴۰۱ ج۲ باب المحرمات، ط.س. ج۳ ص۴۸). ظفير

(۲) ويكون سنة مؤكدة فى الاصح فياثم بتركه الخ (درمختار كتاب النكاح. ط.س. ج۳ ص۷). ظفير

(۳) و(۴) ويندب اعلانه وتقديم خطبة وكونه فى مسجد يوم الجمعة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۳۵۹ ج۲ كتاب النكاح، ط. س. ج۳ ص ۸). ظفير

(۵) واحل لكم ما وراء ذالكم، سورة النساء: ۲۴. ظفير

(۶) وحرم على المتزوج ذكرا او انثى نكاح اصله وفروعه غلا او نزل وبنت اخيه واخته وبنتها الخ (درمختار باب المحرمات، ط.س. ج۳ ص۲۸). ظفير

(۷) واحل لكم ما وراء ذالكم، سورة النساء: ۲۴. ظفير

(۸) واحل لكم ما وراء ذالكم، سورة النساء: ۲۴. ظفير

چي مرتد اسلام قبول کړي نودوباره نکاح کولی سي: **سوال:** (۴۹۱\) که مرتد دوی دری میاشتی وروسته واپس مسلمان سی نودده بیا تجدید دنکاح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دوباره دده نکاح کیدی سی.

ددې ښځو سره نکاح صحیح ده: **سوال:** (۴۹۲\) دمیره مور او دخوابنی سکه خور، دمیره مور میریزی خور، دخوابنی خور، دمیریزی خوابنی خور، ددی ښځو سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: ددی ټولو ښځو سره نکاح صحیح ده اودا ټول په: واحل لکم ماوراء ذالکم، (١) کی داخلي دی.

دوراره دمور اودده دښځی دواړو سره نکاح صحیح ده: **سوال:** (۴۹۳\) زید اوعمر دوه سکه وروڼه دی دعمر نکاح دزینب سره وسوه یوهلك پیداسو بکر، عمر مړسو، نودزینب واده دده دکشر ورور زید سره وسو، ددې ځخه هم یوهلك پیداسو چی دهغه نوم خالد دی دبکر اودخالد نکاح دداسی دوو ښځو سره وسوه چی حقیقی خوندی وی اوس صورت مسئوله دادی چی که دعمر زوی دځه وجه ځخه خپلی ښځی ته طلاق ورکړی یادده دانتقال په سبب جلاسی نودده اکا زید دبکر دښځی سره نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار: فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها وامرأة ابنها. (٢) نو دعبارت منقوله ځخه معلومه سوه چی که دزید ښځه یعنی زینب هم دزید په نکاح کی موجوده وی بیاهم زید دخپلی ښځی دزوی سره اودخپل وراره دبکر دښځی سره دطلاق ځخه وروسته یادبکر دمرګ ځخه وروسته نکاح کولی سی اوکه زینب موجوده نه وی نوبیا خو هیڅ شك نسته.

دمریدی سره نکاح کول جائزده اوکه نه؟ **سوال:** (۴۹۴\) دمریدی سره نکاح کول جائزده اوکه نه، چه مځکی یی مریده کړی اوبیا ورسره نکاح وکړی؟

جواب: دمریدی سره نکاح صحیح ده خوپه دهوکه او فریب باندی یې کول حرام دی.

دوهمه نکاح کول ځنګه دي؟ **سوال:** (۴۹۵\) دښځی سره دبرابری نه کیدوپه وجه په دوهمه نکاح کي شرعا ځه حرج خونسته؟

جواب: که دده دښځی سره تعلق ښه نه وی اودوهمه نکاح کول غواړی اوددوهمی نکاح ځخه وروسته دده دابیره وی چی مساوات به ونه سی نوبه مخکنی ښځی لره طلاق ورکی دوهمه نکاح دی وکړی مګر هلته چی مخکی ښځه په خپلو حقوقو پرینښوولو راضی وی.

---

(١) واحل لكم ما وراء ذالكم، سورة النساء: ۲۴. ظفیر

(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۹۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۹. ظفیر

(قال عزّ وجل: فان خفتم ان لا تعدلوا فواحدة اوما ملكت ايمانكم (۱) الآيه، وفی الدر المختار فی بيان احكام النكاح: ومكروها (ای يكون النكاح مكروها) لخوف الجور فان تيقنه حرم ذالكم. (وفيه (۲)) ويجب (ای الطلاق) لوفات الامساك بالمعروف (۳) (وفيه ولو تركت قسمها (ای نوبتها) لضرتها صح باب القسم، جميل الرحمٰن)علی هامش رد المحتار ص **۵۵** ج۲.

چی کمی ښځی ته خاوند طلاق ورکړی نو دهغه نکاح کیدی سی: سوال: (۴۹۶) دیوی ښځی خاوند ددولسو کالو راهیسی مفقود الخبردی اودا دیوبل سړی په کورکی ده بله دا چی دی ښځی دوه واره دخرچی مقدمه په سرکار کی په خاوند وکړه اوپه خاوند دسرکار څخه ډگری ورکول سول اوښځه داهم وایی چی زما خاوند ماته ددوو سړیو په مخکی طلاق هم راکړی دی اوس ددی ښځی نکاح دبل سړی سره کیدی سی اوکه نه؟ او دی ښځی او ددی سړی ته چی دچا په کور کی اوسیږی ددوی دکور خوراك صحیح دی او که نه؟ او ددوی خیرات او قربانی صحیح ده اوکه نه؟

جواب: ددی ښځی دبیان موافق ددی دوهمه نکاح صحیح ده اوبی دنکاح څخه یی ساتل سخته گناه ده، گناه کبیره، چی چا داسی کړیده چی داښځه یی بی نکاح ساتلی ده، ده ته دی نصیحت وسی چی دی توبه وکاږی اودتیرو سوو بدو افعالو څخه دی توبه وکاږی اوکه دی یی نه کوي نودده سره چینباك، خوراك کول نه دی پکار اودده سره دی متارکت وسی او دده دخیرات اودقربانی دقبولیت توقع نسته. والله اعلم مفتی مدرسه

دکونډی سره خپله نکاح کول او دزامنو سره یی دلوڼو نکاح کول څنگه دی؟ سوال: (۴۹۷) دیوسړی دوی لوڼی دی اویوه کونډه ده دهغه دوه زامن دی داسړی دکونډی سره واده کول غواړی کونډه په دی شرط رضاده چی که ته دخپلو لوڼو نکاح زما دزامنو سره کوی نو زه به ستاسی سره نکاح وکړم، آیا داجائز دی؟

جواب: دا صورت جائز دی (۴).

دزوی واده دخاوند دلورسره: سوال: (۴۹۸) دزید دوی ښځی دی دزید دمرگ څخه وروسته دده دیوی ښځی سره دده وروړعمرواده وکی اوهلك یی پیدا سواوس آیادی دزید ددوهمی

---

(۱) واحل لكم ما وراء ذالكم، سورة النساء: ۴. ظفير

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص**۳۵۹** ج۲. ط. س. ج۳ ص۷. ظفير

(۳) ايضا ص**۵۷۲** ج۲. ظفير

(۴) اما بنت زوجة ابيه اوابنه فحلال (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص**۳۸۳** ج۲. ط. س. ج۳ ص۳۱). ظفير

ښځی دلور سره نکاح کولی سی اوکه نه؟
جواب: کولی یې سی.

دشپږو اویا کالو دبوډۍ دشپاړسو کالو هلک سره: **سوال**: (۴۹۹) دشپږ اویا کالو بوډۍ سره دشپاړسو کالو هلك نکاح کول صحیح دی اوکه نه؟
جواب: نکاح کیږی [۱].

دښځی دانا دبنی سره نکاح: **سوال**: (۵۰۰) ان رجلا نکح ضرة ام الزوجة هل یصح نکاحه ام لا ؟
جواب: یصح نکاحه بدلیل قوله تعالٰی: واحل لکم ماوراء ذالکم [۲] الآیة. فان ضرة ام ام الزوجة لیست جدة الزوجة لکی دخلت فی عموم قوله تعالٰی: وامهات نسائکم الآیة.

ددرې طلاقو څخه وروسته حلاله وسوه، ده دوطی څخه وروسته طلاق ورکی، مخکنی خاوند ددې په عده کی وطی وکړی، دنکاح دپاره څه حکم دی؟ **سوال**: (۵۰۱) زید خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړل څو ورځی یی ددی سره وطی وکړی بیا دیوسړی سره یی په غرض دحلالی ددې نکاح وکړه محلل وطی وکړی اوطلاق یی ورکی دعدی دتیریدو څخه وروسته زید دخپلی ښځی هندی سره نکاح وکړه نودا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟
جواب: زید چی کمه نکاح دتیریدودعدی دطلاق دمحلل یعنی ددری حیضوڅخه وروسته وکړه دانکاح صحیح سوه دده سره دنکاح په صحت کی څه شك اوتردد نسته اوچی کم ناجائزکارونه زید دتحلیل څخه مخکی اووروسته کړیدی دهغه څخه دی توبه وکاږی [۳].

دناجائز نکاح څخه وروسته دطلاقو ضرورت سته اوکه نه همداسی نکاح کیدی سی؟ **سوال**: (۵۰۲) زید دکریما سره نکاح وکړه چی برابری یی ونه خوړل نوپه یوه کال کی یی دننه طلاق ورکړی، په دې موده کی مجامعت هم سوی ؤ دعدی څخه وروسته دکریما اودبکر نکاح وسوه خو دکریما اودبکر رشته داسی وه چی دهغه دوجی عالمانو دانکاح ناجائز وګرځوله ددی ناجائزي نکاح دیوکال څخه دزیات وخت وروسته اوس جدایی خو په دواړوکی ده خوآیا دطلاق ضرورت سته اودطلاق څخه وروسته یابی طلاقه دکریما داول خاوند سره نکاح جائزده؟

---

(۱) په شریعت کی دعمر څه قید نسته. ظفیر
(۲) سورة النساء: ۴ . ظفیر
(۳) ولابد من کون الوطء بعد مضی عدة الاول لو مدخولا بها (رد المحتار ص۷۴۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص۴۱۰) لا ینکح مطلقه من نکاح صحیح نافذ بها ای بالثلاث لوحرة الخ حتی یطأها غیره (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الرجعة ص۷۳۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۰۹). ظفیر

جواب: داسی نکاح چی کمه شرعا باطله اوفاسده وی جلاکیدل اوپریښوول یې کافی دی اوطلاقو ضرورت نسته اوکه ښځه مدخوله وی نودې لره عده تیرول پکاردی بیا دمخکنی خاوند سره نکاح کولی سی. (په دې شرط چی ده درې طلاقه نه وی ورکړی. ظفیر)

دپلار دماما دلور سره نکاح جائزده: **سوال**: (۵۰۳) که زید دپلاردماما دلورسره نکاح وکړی نوجائزده اوکه نه؟

جواب: دپلار دحقیقی ماما دلور سره نکاح جائزده، قال الله تعالی بعد بیان المحرمات: واحل لکم ما وراء ذالکم الآیة (۱). فقط

دښځی دزوی دمطلقی سره نکاح: **سوال**: (۵۰۴) یوسړی دیوې ښځی سره نکاح وکړه دی هلك دې ته طلاق ورکی، ښځی دبل سړی سره واده وکی هغه هم دې ته طلاق ورکی، ښځی دبل سړی سره واده وکی اوده هم دې ته طلاق ورکی، اوس که دا سړی ددی ښځی سره که نکاح وکړی نوصحیح ده اوکه نه؟ فقط بینوا وتوجروا.

جواب: که دامذکور سړی ددی ښځی سره نکاح وکړی یعنی دخپلی ښځی دهغه زوی دښځی سره چی کم داول خاونده څخه دی نونکاح صحیح ده قال الله تعالی: احل لکم ماوراء ذالکم (۲) ودلیله ما قال فی الشامی: ولاتحرم بنت زوج الام ولا امه (الی ان قال) ولا زوجة الربیب ولا زوجة الاب (۳). کتبه رشید احمد.

دلور واده دښځی دوراره سره صحیح دی اوکه نه؟ **سوال**: (۵۰۴) زید دخپلی لور واده دخپلی ښځی دوراره سره کول غواړی جائزدی اوکه نه؟

جواب: صحیح دی په دې کی هیڅ خبره نسته. دلیله ما قال الله تعالی: واحل لکم ماوراء ذالکم (سورة النسآء: ۲۴). فقط

دحرمت مصاهرت سره نکاح جائزنه ده: **سوال**: (۵۰۵) زید دخپل وراره عمر سره دخپلی لور هنده بالغه نکاح کول غواړی نوهندی خپل پلار زید ته وایی زما نکاح دعمر سره مه کوه ولي چی ماپه خپلو سترګو عمر دخپلی مور سره په زنا لیدلی دی. نوزید داوویل واقعی ته رښتیا وایی ماهم په خپلو سترګو لیدلی وو اووهل ټکول می هم کړی وه خو دامی دبی عزتی دبیری ښکاره نه کړه، غرض داچی هنده بالغه برابره ددی نکاح انکار کوی اوزید دهندی نکاح دعمر سره وکړه.

آیادزید اودهندی دمورپه مخکی په خپل مینځ کی خبریکول اوپه وخت دنکاح په مجمع

(۱) و(۲) سورة النسآء: ۲۴. ظفیر

(۳) رد المحتار ص۳۸۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۱. ظفیر

عام کی چپ پاته کیدل اودحرمت مصاهرت اظهار نه کول اوچی کله هنده خپله نکاح دبکر سره وکړه برملا اظهار کول شرعا معتبردی اوکه نه؟ اومخکی نکاح باطلولی سی اوکه نه؟ اونکاح ثانی جائزده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دهندی نکاح دعمر سره نه ده سوی ځکه چی مخکی خوهنده ته یې دحرمت مصاهرت علم وو نو ددی په حق کی نکاح مذکوره به باطله (۱) وی. ددې څخه علاوه هنده بالغه وه اوهغه مسلسل ددی نکاح څخه انکار کوی نوددی وجه دهندی نکاح دعمر مذکور سره نه سی منعقده کیدی (۲).

نونکاح دهندی چی وروسته دبکر سره وسوه هغه صحیح ده اودهندی دپلار په حرمت مصاهرت باندی دعلم سره په وخت دنکاح ددی اظهار نه کول مفید دجواز نه دی دنکاح دپاره ځکه چی کله هنده بالغه په خپله دعمر سره دنکاح څخه انکارکوی نودانعقاد دنکاح هیڅ صورت نسته .

<u>ددوو دترور لوڼو یادماما لوڼو په نکاح کی دجمع کولو مطلب</u>: **سوال**: (۵۰۶/۱) په رکن رکین کی لیکلی دی چی دوې دترور لونی یا دماما لونی دیوسړی په نکاح کی جمع کیدی سی دا صحیح دی اوددی څه مطلب دی؟

جواب: ددوو دترور لوڼو مطلب دادی چی ددوو خوندو لوڼی وی یوه دیوه سړی لورده او بله دبل. نو دوی دیوه سړی سره په نکاح کی یوځای کیدی سی.

<u>دښځی پریښوول اودخوښینی سره نکاح کول څنګه دی؟</u> **سوال**: (۵۰۷/۱) یوسړی دخپلی خوښینی یعنی دخپلی ښځی دسکه خور چی دڅه مودی راهیسی کونډه وه دخپلی ښځی په ژوند کی جبرًا په خپله نکاح کړه اوپه خاندان کی سره ددی چی مناسب سړی وو دایی بل ځای دنکاح کولو څخه منع کړه اوښځه بی له خطاء شرعی پریږدی اوطلاق ورکړی اوماشومان هم جلا کړی، پوښتنه داده چی په دی سبب ښځی ته طلاق ورکول جائزدی او که نه؟ اودده نکاح به دسکه خوښینی سره وسی اوکه نه؟

جواب: که خپلی ښځی ته یی طلاق مخکی ورکړی وی اوددی دطلاقو دعدی یعنی ددری حیضونو یادحیض دنه راتلو په صورت کی ددرو میاشتو تیریدو وروسته دښځی دسکه خور سره یې نکاح کړی وی نودا شرعًا صحیح ده اوکه ښځی ته یی دطلاق ورکولو څخه مخکی یاددی دعدی دتیریدو څخه مخکی دښځی دسکه خور سره نکاح وکړی نو دا

---

(۱) اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی (ردالمحتار ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۱). ظفیر

(۲) ولا تجبر البالغة البکر علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ (ایضا ص۲۱۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص۵۲). ظفیر

نکاح به باطله وی اومنعقده به نه وی وحرم الجمع بین المحارم نکاحا ای عقدا صحیحا وعدة لو من طلاق بائن (درمختار علی هامش الشامی ۳۹۰ ج۲)

ولا یجوز ان یتزوج اخت معتدته سواء کانت المعتدة عن طلاق رجعی اوبائن او ثلاث او عن نکاح فاسد او عن شبهة (عالمگیری ص ۲۹۲ ج۲).

دعدت ښځه وروسته ددوهم یا داول خاوند سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۵۰۸) دعدی په ختمیدو دبل سره نکاح کولی سی یا دخپل خاوند سره نکاح کولی سی؟

جواب: په عده تیریدو دبل سړی سره نکاح کولی سی اوکه خاوند دری طلاق نه وی ورکړی بلکی یو یا دوه طلاقه یی ورکړی وی اوعده تیره سوه نو وروسته دعدی ښځه هم خاوند نکاح کولی سی اوکه دری طلاقه یی ورکړی وی نوبی دحلالی داول خاوند دپاره نه سی روا کیدی.

اوچی کمی ته مغلظ طلاق نه وی ورکول سوی نوخاوند ورسره په عده کی هم نکاح کولی سی: ودلیله اذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة وثنتین فی الامة لم تحل له حتٰی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها یطلقها اویموت عنها (عالمگیری مصری ص ۴۷۳ ج۲). فقط

ښځی غیر مدخولی ته یی طلاق ورکی اوس بی دنکاح کولو دانه سی ساتلی: سوال: (۵۰۹) یو سړی خپلی ښځی ته دصحبت کولو څخه مخکی طلاق ورکی اوبیا دیومولوی صاحب په مسئله ښوولو اوویلو باندی یې داپه کورکی وساتله اوصحبت یی ورسره وکی څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی ددی سړی پرښځی باندی طلاق واقع سو اوچی کله داښځه غیر مدخول بهاوه نوپه دی باندی طلاق بائن واقع سو په یوه طلاق دابائنه سوه ([1]) بی دنوی نکاح څخه داپه کورکی ساتل اوصحبت ورسره کول حرام دی یا خودی دی ژر ددې څخه بیل سی اوکه ساتی یی نو بیا دی ورسره نکاح وکړی.

دلور واده دماما دزوی سره صحیح دی: سوال: (۵۱۰) دزید دسکه دماما دزوی سره دده دلور واده کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: واما عمة عمة امه وخالة خالُ ابیه فحلال کبنت عمه وعمته

([1]) قال لزوجته غیر المدخول بها: انت طالق ثلاثا الخ. وقعن الخ وان فرق بانت بالاولی لا الی عدة ولذا لم تقع الثانیة بخلاف الموطوءة حیث یقع الکل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ص ۲۲۴ – ۲۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۸۴ – ۲۸۲). ظفیر

وخاله وخالته (۱) لقوله تعالی واحل لکم ماوراء ذالکم (۲) الآیة ددې څخه معلومه سوه چی دزید دسکه ماما دزوی سره دزید دلور نکاح صحیح ده.

دحاملی عن الزنا اولاد اوددی واده: **سوال**: (۵۱۱\) دیوسړی لور مرتکبه دزنا سوله په حالت دحمل کی ددی نکاح دیوبل سړی سره وسوه نودا عقد صحیح سو اوکه نه؟ اوددی زنا دحمل څخه چی کم هلك پیداسو، دانیکه (دانجلی پلار) غنیمت وګڼل اوپه خپله غیږ کی یی واخیستی، دداسی سړی سره تعلقات او راشه درشه کول څه رکم دی؟

جواب: داعقد صحیح دی ځکه دحاملی عن الزنا نکاح دغیر زانی سره هم صحیح ده خو دغیر زانی تر حمل زیږولو پوری وطی صحیح نه دی. کذافی الدرالمختار (۳).

معلومه نه ده چی دسائل په دی سوال څه غرض دی آیا ددی هلك پالنه ګناه ګڼی آخر ددی هلك څه ګناه ده چی دده پالنه دی نیکه ونه کړی. واضحه دی وی چی دولد الحرام نسب دمور څخه شرعاً ثابت دی اوددی بچی پالنه ضروری په دې کی دنیکه څه ګناه نسته.

دمزنیی دلور سره واده صحیح نه او دمزنیی سره صحیح دی: **سوال**: (۵۱۲\) دیوی ښځی دیو سړی سره ناجائزه تعلق وو دی ښځی ددی سړی سره دخپلی لور واده وکی ددی انجلی دوطی څخه مخکی انتقال وسو اوس ددی انجلی مور ددی سړی سره نکاح کول غواړی ځکه چی دانجلی پلار دې ته طلاق ورکی آیاپه دی صورت کی ددی انجلی دمور نکاح ددی سړی سره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: که ناجائزه تعلق ددی ښځی ددی سړی سره په مثل دزنا وغیره ثابت وی نوددی سړی نکاح ددی ښځی مزنیه او ممسوسه بالشهوت دلور سره حرامه اوناجائز وه. بیا که دی سړی دی انجلی ته دوطی اودمس بالشهوت وغیره څخه مخکی طلاق ورکی نوددی سړی نکاح ددی انجلی دمور سره صحیح ده اوکه ناجائز تعلق ددی ښځی ددی سړی سره ثابت نه وی اوزنا وغیره امور محرمه نه وی سوی نوبیاددی انجلی سره دده نکاح صحیح سوه اوپه صحیح نکاح به دوطی څخه هم دمنکوحی مور همیشه حرامیږی.

په درمختار کی دی: وأم زوجته الخ بمجرد العقد الصحیح وإن لم توطأ قوله الصحیح احترازعن النکاح الفاسد فانه لایوجب بمجرده حرمة المصاهرة بل بالوطی اومایقوم مقامه

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۰. ظفیر

(۲) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

(۳) وصح نکاح حبلی من زنا لا حبلی من غیره ای الزنا لثبوت نسبه (الی قوله) وحرم وطؤها ودواعیه حتی تضع الخ لو نکحها الزاني حل له وطؤها اتفاقا والولد له ولزمه النفقة (الدرالمختار ص ۱۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۸ – ۲۹). ظفیر

من المس بشهوة [1] الخ (شامی ص ۲۷۸ ج۲) .

وكيل وايي انجلى اجازه وركړيده او انجلى وايي نه مى ده وركړى، نكاح وسوه اوكه نه؟

سوال: (۵۱۳) وكيل ددوو سړيو په وجودكى دانجلى څخه دوكالت اجازه واخيستنه، دي ښه وويل، دى قاضى ته راغى اووى ويل نكاح وتړل سوه دانجلى پلارته چى كله معلومه سوه نوده دخپلى لور كلثوم څخه په دى باره كى پوښتنه وكړه په جواب كى كلثوم دپوره واقعې څخه لاعلمى ښكاره كړه اووى ويل چى ماچاته هم اجازه نه ده وركړى، په شريعت كى ددى نكاح څه حكم دى؟

جواب: انجلى چى بالغه ده اودى په جواب دكلام دبكر كى: ښه وويل چى دهغه دوه شاهدان ستنه نوددى نكاح منعقده سوه اوانجلى چي وروسته انكار كوى چى ما اجازه نه ده وركړى دا به معتبر نه وى ولي چى ددى ښه ويل اذن دى. قال فى الدرالمختار فان استاذن غير الاقرب كاجنبى اوولى بعيد فلا عبرة لسكوتها بل لابد من القول (درمختار على هامش الشامي ج۲ ص۴۱۳). فقط. والله تعالىٰ اعلم

يوې خور ته طلاق اودبلى سره واده كول: **سوال:** (۵۱۴) يوسړى دخپلى كشرى خور نكاح ديوه سړى سره وكړه مور يى په دى نكاح ناراضه وه دى په ده باندى دى كشرى خورته طلاق وركى او دمشرى سره يى نكاح وتړل نوسمدستى ددى سړى ددى دمشرى خور سره نكاح صحيح ده اوكه نه؟

جواب: كه دكشرى انجلى سره خلوت هم نه وى سوى اودخلوت څخه مخكى دې ته طلاق وركول سو نوعده پردى واجب نه ده [2] نوپه دى حالت كى ددى دخور سره سمدستى نكاح صحيح ده. خومور ولى نه ده كه مشره خور نابالغه وى نودورور داجازى څخه بغير ددى نكاح به صحيح نه وى.

ښځى ته يى طلاق وركى اوددى دكوندې خورسره يى واده وكى صحيح دى اوكه نه؟ **سوال:** (۵۱۵) ددوو وروڼو نكاح ددوو خوندو سره وسوه اوس مشر ورورو وفات سو دده ښځه بالغه ده نوكشر ورور چى خپلى نابالغى ښځى ته طلاق وركى نودخپل مشر ورورو دښځى سره نكاح كولى سى اوكه نه؟

جواب: كه كشر ورور خپلى نابالغى ښځى ته طلاق وركى اوددى دمشرى خورسره نكاح وكړه نودا صحيح ده خوكه داكشر ورور هم نابالغه وى نودده طلاق نه واقع كيږى اوكه

---

[1] الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فى المحرمات ص۳۸۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۰. ظفير

[2] قال لزوجته غير المدخول بها: انت طلاق ثلاثا، وقعن الخ وان فرق بانت بالاولى لاالى عدة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب طلاق غير المدخول بها ص۲۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۸۴ - ۲۸۲). ظفير

بالغ وو نودده طلاق به واقع سی اوکه ده دخپلی نابالغی ښځی سره خلوت کړی دی نو ددی دعدی دپوره کیدو څخه وروسته دی ددی دمشری خور سره نکاح وکړی.

دحمیدی نکاح یې په نیکه ښځه ښکاره کولو سره وکړه وروسته دابی حیا وختله اوپه سوزاک کی اخته ده نودا نکاح وسوه اوکه نه؟ سوال: (۵۱۶) زید ته یومعتبر سړی بکر یقین ورکی چی حمیده ډیره نیکه سلیم الطبع اوخوش اخلاقه ښځه ده په دی بناء زید حمیده په نکاح کی قبوله کړه، په مجلس دنکاح کی نه قاضی وو اونه بکر، سره دوعدی په مجلس دنکاح کی شریك نه سو، یوشاهد سکه ورور حمیده اویو وکیل چی بالکل دحمیدی دحالاتو څخه بی خبره وو په مجلس دنکاح کی وو نورڅوك نه وه، دنکاح څخه وروسته حمیده په مرض دسوزاك کی مبتلا اوپه حرکات اوسکنات کی بدکاره اوبی حیا ښکاره سوه آیا نکاح وسوه اومهر واجب دی؟

جواب: چی کله ایجاب اوقبول ددوو شاهدانو په مخکی سوی وی نونکاح صحیح سوه اودښځو دعیبونو دوجه که زید داساتل نه غواړی نوطلاق دی ورکړی اوپه صورت ددخول اودخلوت صحیحه پوره مهر پر ذمه دزید لازم دی اوکه بکر قصداً دروغ ویلی وی نودی گنهگار دی.

څلورم باب: محرمات (یعنی هغه ښځی چی دکمو سره نکاح حرامه ده)

اول فصل: حرمت دنکاح په سبب دنسب

دمیریزی خور دزوی دلور سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۵۱۷) زید دخپلی میریزي خور دزوی دلور سره نکاح وکړه. نودده نکاح جائزده اوکه نه؟ اوپر زید څه سزا شرعا ده که دا نکاح ناجائزه وی؟

جواب: دمیریزي خور دزوی دلور سره نکاح حرامه ده ناکح دتعزیر حقداردی که توبه نه کاږی اوکه دی مذکوره ښځه نه جلا کوی. نودده سره دی خوراك چښاك اونور تعلق ختم سی. قال الله تعالی: وَبَنَاتُ الاَخِ وَبَنَاتُ الأُخْتِ الاية ای حرمت علیکم. [1] الآیه ، وقال تعالی: فَلا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ [2] الاية، فقط

دمیریزي ترور سره نکاح جائزنه ده: سوال: (۵۱۸) دمیریزي ترور سره نکاح جائزده اوکه نه؟ اوپه آیت کریمه کی دلفظ دخالاتکم څخه څه مراددی اولفظ دجمع یی ولی راوړی؟

جواب: په وخالاتکم [3] کی دری کوچنی قسم تروریانی داخلي دی دټولوسره نکاح حرامه ده اوکه دمور سکه خور وی اوکه صرف دپلار لور یی وی یا صرف دمور. هکذا فی کتب

---

[1] وگوری سورة النساء: ۲۴. ظفیر [2] سورة الانعام، آية: ۸. ظفیر [3] سورة النساء: ۲۴. ظفیر

التفسير والفقه ([1]).

دسکه خوريي اودسکه وراره دلور سره نکاح جائزنه ده: **سوال**: (۵۱۹) دسکه ماما دسکه خوريي دلور سره نکاح کول جائزدي اوکه نه؟ اودسکه اکا دسکه وراره دلور سره نکاح کول جائزدي اوکه نه؟

جواب: واضحه دي وي چې په قرآن کريم کې دمحرماتو په بيان کې ارشاد دي: وبنات الاخ وبنات الاخت ([2]) ددې څخه مراد دادي چې داکه دورور اودخور خپل صلبي اولاد وي يا داولاد اولاد وي. نوچې څنګه دخورزى سره نکاح حرامه ده نو همداسې دخوريي دلور سره هم حرامه ده چې څومره هم لاندې ځي. اوچې څنګه دوريرى سره حرامه ده هم داسې دوراره دلور سره هم حرامه ده وان سفلت. نوعدم جواز دنکاح دخوريي دلور يا دوراره دلور سره په نص قطعي ثابت دي په دي کې اهل حق متفق دي.

په تفسيرِ خازن کې دي: والبنت عبارة عن كل أنثى رجع نسبها إليك بالولادة بدرجة أو درجات ، الى ان قال: قوله تعالى: وبنات الاخ اي حرمت عليكم بنات الاخ الخ وبنات الاخت وهي عبارة عن كل امرأة لاخيك او لاختك عليها ولادة يرجع نسبها الى الاخ او الاخت، فيدخل فيهن جميع بنات اولاد الاخ والاخت وان سفلن الخ (خازن ص ۴۰۴ ج۱).

دميريزي خور لمسۍ حرامه ده: **سوال**: (۵۲۰) زيد دخپلې ميريزي خور چې صرف دپلار يې ده دلمسى سره نکاح کول غواړي دانکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: تمام مفسرين اوداهل سنت والجماعت عالمان په دې متفق دي چې په آيت کريمه وبنات الاخت سره دهرقسم دخور داولاد سره اوداولاد داولادسره نکاح حرامه ده که سکه خوريي وي اوکه صرف دپلار يي وي اوکه صرف دموريي وي. نوکه دميرزي خورڅخه که هريوه خور مرادوي ددې دلمسى سره نکاح حرامه ده. كذا في عامة كتب الفقه. ([3])

ديو خاوند څخه يي هلک او دبل خاوند څخه يي انجلۍ اوموريي يوه وي نوپه دوي کي نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۵۲۱) زينب دوى نکاح وکړې دمخکي مړخاوند څخه يي دوه زامن اوددوهم موجوده خاوند څخه يي دوې انجلۍ دي ددې دواړو هلکانو او ددواړو انجونو نکاح جائزده اوکه نه؟

([1]) دخل في الاخوات المتفرقات وبناتهن الخ والعمات والخالات المتفرقات (البحر الرآئق ص۹۹ ج۳، ط.س. ج۳ ص۹۳). ظفير

([2]) و([3]) سورة النساء ۲۴. ظفير

([4]). ودخل في الاخوات المتفرقات وبناتهن وبنات الاخوة المتفرقين والعمات والخالات المتفرقات لان الاسم يشمل الكل (البحر الرآئق فصل في المحرمات ص۹۹ ج۳، ط.س. ج۳ ص۹۳). ظفير

جواب:دادواړه هلکان اودواړي انجوني وروڼه خوندي دي په دوی‌کی نکاح جائزنه ده ([1]).

دمحارمو سره نکاح فاسده ده اوکه باطله:**سوال**:(**۵۲۲**) که چادخپل محارموسره نکاح وکړه نودا نکاح به فاسده وی اوکه باطله؟

جواب: دانکاح به باطله وی اوکه فقهاؤ ورته چیري فاسد ویلی وی نو ددې څخه مراد باطل دی .

دمیریزي خاله سره نکاح جائز نه ده: **سوال**: (**۵۲۳**) دزید دخسر دوې ښځې دی دیوی ښځې څخه یی چی کمه لورده هغه دزید ښځه ده اوددوهمی ښځې څخه یی چی کمه انجلی ده دهغې نکاح دزید دزوی سره جائزده اوکه نه؟ یعنی دزید دزوی نکاح دخپلی میریزي خاله سره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دزید دخسر چی کمی دوی لوڼی دی چی ددوو ښځو دنس څخه پیدا دی دادواړي په خپل مینځ کی علاتی یعنی دیوه پلار لوڼی دی نو دزید دزوی نکاح دده دعلاتی خوابنی سره صحیح نه ده. قال الله تعالیٰ: حرمت علیکم امهاتکم وبنٰتکم واخواتکم وعمٰتکم وخلٰتکم، ([2]) دلته ددې‌څخه دهرقسم خوابنی حرمت ثابت دی یعنی دعینی، علاتی، اخیافی، دهرقسم خاله سره نکاح حرامه ده ([3]). فقط

دخور دلمسی سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (**۵۲۴**) څه وایی علماء چی دزید په نکاح کی دوی ښځې دی هنده اورضیه دهندی یوه لور مخدومه پیداسوه، اودرضیی یو زوی بکر پیداسو. اوس دمخدومه دسکه لمسۍ سره دبکر واده کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دمخدومه دلمسی سره دبکر نکاح صحیح نه ده. کما قال الله تعالیٰ: وبنات الاخ (الآیة ، سورة النساء: ۲۴) ای حرمت علیکم. ([4]) والله اعلم

په فاسده اوباطله کی فرق: **سوال**: (**۵۲۵**) په فاسده اوباطله نکاح کی څه فرق دی؟

جواب: په دې کی اقوال دفقهاؤ مختلف دی محقق ابن الهمام فرمایی چي: په نکاح فاسده اوباطله کی څه فرق نسته. اودبعضو کتابونو څخه فرق معلومیږی لکه چی په شامی کی ددی تفصیل دی، ومن شاء فلیراجع الیه ([5]).

([1]) قال الله تعالی: وحرمت علیکم امهاتکم وبناتکم واخواتکم (سورة النساء: ۲۴). ظفیر

([2]) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

([3]) فیدخل فیهن الاخوات المتفرقات وبناتهن وبنات الاخوة المتفرقین والعمات والخالات المتفرقات لان الاسم یشمل الکل (البحر الرائق فصل في المحرمات ص۹۹ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص۹۳). ظفیر

([4]) فیدخل فیهن جمیع بنات اولاد الاخ والاخت ان سفلن الخ (تفسیر خازن ص۴۰۴ ج۱). ظفیر

([5]) فیه أنه لا فرق بین الفاسد والباطل في النکاح، بخلاف البیع کما في نکاح الفتح لکن في البحر عن المجتبی: کل نکاح اختلف العلماء في جوازه کالنکاح بلا شهود فالدخول فیه موجب للعدة وأما نکاح منکوحة الغیر =

داخيافي (په مور كې شريكه) خور دلور سره نكاح جائزنه ده: سوال: (۵۲۶) دامينه خاوند عظيم وفات سو اويوه لور سائره څينې پاته سوه دسائرې واده دمحمد سره وسو، دمحمد دنطفې څخه يوه انجلۍ سكينه پيدا سوه، امينه دعدت تيريدلو څخه وروسته دعثمان سره عقد ثاني دواده وكې دعثمان دنطفې څخه عبدالكريم پيداسو اوس دعبدالكريم نكاح دمحمد دلور سكينه سره سويده ايا دانكاح چې داخيافې خور دلور سره سويده شرعاً جائزده اوكه نه؟

جواب: دانكاح چې داخيافې خور دلور سره سويده قطعي حرام اوناجائز ده دبنات الاخت حرمت په قرآنكريم كې منصوص دی. اودرې واړه قسمه خوندې په دې كې شاملي دې عينې وايې كه علاتې وی اوكه اخيافې. كما فی عامة كتب الفقه والتفسير، قال فی المدارك قوله تعالی: واخواتكم لاب وام اولاب اولام وعماتكم من الاوجه الثلاثة وخالاتكم كذالك وبنات الاخت كذالك (۱) الخ وهكذا فی الجلالين وغيره من كتب التفاسير. فقط

دميريزي خور سره نكاح جائز نه ده: سوال: (۵۲۷) دميريزي خورسره چې پلار يې جلا وی نكاح جائزده اوكه نه؟

جواب: ناجائزده لقوله تعالی واخواتكم ای حرمت عليكم (۲). فقط

دخورزي وراره دلور سره نكاح جائزده اوكه نه؟ سوال: (۵۲۸) دخورزی اودوريرې دلورې سره نكاح صحيح ده اوكه نه؟

جواب: لكه چې دوريرې اودخورزی سره نكاح حرامه ده نوداسې ددوی دلور سره هم حرامه ده ځكه چې لفظ دبنات الاخ وبنات الاخت (۳) لاندې ټول اولاد داخ اواخت اواولاد داولاد داخ او اخت ته شامل دی، كما فی التفسير الخازن: وبنات الأخ وبنات الأخت وهي عبارة عن كل امرأة لأخيك أو لأختك عليها ولادة يرجع نسبها إلى الأخ أو الأخت فيدخل فيهن جميع بنات أولاد الأخ والأخت وإن سفلن (۴) الخ . فقط

دميريزي خور دلمسی سره نكاح جائزده اوكه نه؟ سوال: (۵۲۹) دزيد عقد دده دميريزې خورې دلمسی سره كيدی سی اوكه نه؟ صورت يې دادی چې بكر اول يو عقد وكې چې

= ومعتدته فالدخول فيه لا يوجب العدة الخ (ردالمحتار باب العدة ص۸۳۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۱۲). ظفير

(۱) وګورئ آيت شريف: وحرمت عليكم امهاتكم الخ تفسير مدارك التنزيل ص۱۲۹ ج۱. ظفير

(۲) سورة النساء ۲۴. ظفير

(۳) واخواتكم لاب وام او لاب او لام. مدارك التنزيل ص۱۲۹ ج۱. ظفير

(۴) تفسير خازن ص۴۰۴ ج۱. ظفير

دهغه څخه هنده پیدا سوه اودهندی څخه خالد اودخالد څخه سلیمه پیداسوه. ددې څخه وروسته بکر یوبل عقد وکی ددې څخه زید پیداسو آیا دزید عقد دسلیمه سره شرعا جائزدی اوکه نه؟

جواب: دزید نکاح په دی صورت کی دسلیمی سره صحیح نه ده حرام قطعی ده. کما قال الله تعالی بنات الاخ وبنات الاخت (۱). فقط

دلمسی سره نکاح حرامه ده اوددی معاون فاسق دی: **سوال**: (۵۳۰/۱) زید دخپلی حقیقی لمسی سره عقد وکی دزید دپاره شرعا څه حکم دی اوچی کم خلګ دده معاون دی دهغوی دپاره څه حکم دی؟

جواب: دحقیقی لمسی سره نکاح کول قطعا حرامه ده داپه نص قطعی ثابت دی (۲) ددی فعل شنیع مرتکب فاسق اوفاجر دی اوکه دی توبه نه کاږی اودا جلانه کړی نودده سره تعلق پریښوول لازم دی اوچی څوك دده معاون اومددګاردی هغه هم فاسق اوفاجر دی اوامداد دګناه هم ګناه ده. قال الله تعالی: وتعاونو علی البر والتقوٰی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان. (۳) فقط

دمیریزي ورور دلمسی سره نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۵۳۱/۱) زید اوعمر دوه میریزی وروڼه دی یعنی پلار یی یودی اومندی جلا جلا دي نوچی دزید دلمسی نکاح دعمر سره وسی نو ایا داصحیح ده اوکه نه؟

جواب: ددری واړه قسمه وروڼو یعنی عینی، علاتی، اخیافی داولاد او داولاد داولاد سره نکاح حرامه ده لقوله تعالی وبنات الاخ وبنات الاخت (۴). فقط

دمیریزي خور دلمسی سره نکاح حرامه ده: **سوال**: (۵۳۲/۱) دخپلی میریزي خور دلمسی سره نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دمیریزي خور دلمسی سره نکاح حرامه ده. کما فی الجلالین فی تفسیر قوله تعالی: وبنات الاخ وبنات الاخت وتدخلن فیهن بنات اولادهن (۵) وفی الدرالمختار: حرم ... وفرعه ... وبنت اخیه واخته (۶) وبنتها ... وایضا فی الجلالـــین فی تفسیر قوله تعالی:

---

(۱) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

(۲) حرمت علیکم وبناتکم واخواتکم وعماتکم وخالاتکم وبنات الاخ وبنات الاخت (سورة النساء: ۲۴) والبنت عبارة عن کل انثی رجع نسبها الیك بالولادة بدرجة او درجات (تفسیر خازن ص۴۰۴ ج۱). ظفیر

(۳) سورة المائدة : ۱. ظفیر

(۴) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

(۵) وګوری تفسیر جلالین سورة النساء آیت مذکور ص ۷۳. ظفیر

(۶) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۸ – ۲۹ . ظفیر

واخواتکم من جهة الاب اوالام (۱) الخ ۔ فقط

دوریری او دخورزی سره نکاح صحیح نه ده: سوال: (۵۳۳) په بهشتي زیورکی دی چی دوریری اودخورزی سره نکاح صحیح نه ده دامسئله صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دامسئله هم صحیح ده چی ښځو لره دخپل عینی، علاتی، اخیافی، وراره او خوریی سره نکاح جائزنه ده (۲) خوداکا دزوی دلور اوداکا دلور دلور سره نکاح جائزده.

داکا دزوی دلور سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۵۳۴) دحامد دوه زامن بکر اوعمر دی دبکر زوی زید دی اودعمر زوی الیاس دی آیا دزید نکاح دالیاس دلور سره کیدی سی؟ چی دوی په خپل مینځ کی اکا او وریره دی.

جواب: کیدی سی داصورت په احل لکم ماوراء ذالکم (۳) کی داخل وی.

دعلاتی لمسی سره نکاح صحیح نه ده: سوال: (۵۳۵) دمیان بهایی دوی ښځی دی بی جان اوعمده بی بی دبی جان یوزوی محبوب دی اودعمدی بی بی یولور حشمته ده اوددی لور معصوم بی ده اوددی لور قطب بی ده دمحبوب نکاح دقطب بی سره جائزده اوکه نه؟

جواب: قطب بی دمحبوب دمیره خور حشمت بی لمسی ده نودمحبوب نکاح دقطب بی سره حرام قطعی ده، قال الله تعالیٰ: وبنات الاخ وبنات الاخت. (۴) نوچی څنگه دخور سره نکاح حرامه ده نوداسی دخور داولاد اوداولاد داولاد سره هم نکاح حرامه ده اودامراد دی په بنات الاخت سره اوپه اخت کی دری واړه قسمونه دخوندو داخل دی، عینی، علاتی، اخیافی. (۵) فقط

دلور دزوی دښځی سره نکاح حرامه ده: سوال: (۵۳۶) (۱) دنیکه (مور او پلار) دکونډی سره چی دلمسی خپله انا نه وی بلکه بله ښځه وی نکاح جائز ده اوکه نه؟

(۲) که دلمسی یعنی دلور زوی دبل ورور سره چی هغه هم دلور زوی دی ددغه کونډی مذکوره سره ایجاب اوقبول شرعی سوی وی نوکه نیکه دداسی ښځی سره چی دسکه لور دزوی مخطوبه ده نکاح وکړه نوجائز ده اوکه نه؟

دنیکه دکونډی سره نکاح جائزنه ده: (۳) که نیکه شیخ فانی وی او هغه خپله نکاح دیـــوی

---

(۱) تفسیر جلالین سورة النساء ایت مذکور ص ۷۳. ظفیر

(۲) وحرم علی المتزوج ذکرا کان اوانثی اصله وفرعه علا اونزل وبنت اخیه واخته وبنتها (درمختار) کماحرم علیه تزوج بنت اخیه یحرم علیها ابن اخیه وهکذا الخ (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۸ – ۲۹). ظفیر

(۳) سورة النساء : ۲۴. ظفیر

(۴) سورة النساء : ۲۴. ظفیر

(۵) تفسیرِ خازن ص۴۰۴ ج۱. ظفیر

ښځی سره صرف دخدمت دپاره وکړی اوپرجماع قادرنه وی نو دنیکه دوفات څخه وروسته ددی ښځی سره دده نکاح جائزده او که نه؟

د: **ولا تنكحوا تفسير**: (۴) دمولانا ابو السعود رحمہ اللہ دتفسیر ددې عبارت څخه څه مطلب دی کم چې تردې آیت لاندي کړیدی: ولا تنكحوا ما نكح اٰبآءكم ، الآية ؟

جواب: (۱) حرام ده بقوله تعالى ولاتنكحوا مانكح آباءكم من النساء الاية (سورة النساء ۲۳) وقال فی العالمگيرية: نساء الاباء والاجداد من جهة الاب او الاب او الام وان علوا فهؤلآء محرمات على التابيد نكاحا ووطيا ([1]) ص۱۲۴ ج۱.

۲. که دنکاح ایجاب اوقبول سوی وی یعنی شرعی نکاح چی دقاعدی شرعی مطابق ایجاب اوقبول سوی وی نودنیکه نکاح دخپلی لور دزوی دښځی سره فاسد اوحرام اوناجائز ده اوکه خطبه سوی وی نوبیا دنیکه دلور دزوی دکوزده سوی نکاح روا ده.

۳. په داسی حالت کی هم دلور دزوی نکاح دنیکه دمنکوحه سره صحیح نه ده کما مر فی الجواب الاول.

۴. چی دابو السعود ددی عبارت کم حاصل دی همدا مذهب دی دجمهورو او احنافو دی چي نکاح که صحيح وي نو نفس نکاح موجب دحرمت اوکه فاسد وی نوورروسته دوطی وما يجرى مجراه به ثابتيږی قال فی العالمگيريه: فلو تزوجها نكاحا فاسدا لاتحرم عليه امها بمجرد العقد بل بالوطى كذافى البحر ([2]) نوکه نیکه دلور دزوی دمنکوحی سره نکاح وکړی نونکاح فاسده وه اوکه دمخطوبی سره وه نوبیا صحیح وه او دشیخ ضعیف په حق کی دزړه دجوش زیاتیدل قائم دشهوت دی ([3]).

دمنکوحی دلور سره نکاح حرامه ده: **سوال**: (۵۳۷۱) زید دیوی ښځی سره نکاح وکړه خودا ښځه لا تراوسه دمور اودپلار په کوروه اوڅه دخول وغیره زید ددی سره نه دی کړی چی عمر دا اغوا کړه ترڅیری مودی پوری دزید منکوحه دعمرسره اوسیدله او دعمر څخه ددی ښځی دوی لوڼی پیدا سوی نوزید یا دزید ورور ددی انجونو سره نکاح کولی سی اوکه نه او ددی دواړو انجونو نسب به دچا څخه ثابت وی؟

جواب: په درمختار کی دی: لأن للعقد حكم الوطء حتى لو نكح مشرقي مغربية يثبت نسب أولادها منه الخ وفيه في ثبوت النسب: وقد اكتفوا بقيام الفراش بلا دخول كتزوج

([1]) عالمگیری ص۲۱۴ ج۳ ط. ماجدية ج۳ ص ۲۷۲. ظفير

([2]) وګوری البحرالرائق فصل فی المحرمات ص ۱۰۰ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۹۳. ظفير

([3]) حد الشهوة فی امرأة نحو شيخ كبير تحرك قلبه او زيادته (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۲ ج۲ ط.س. ج۳ ص ۳۳). ظفير

المغربي بمشرقية بينهما سنة فولدت لستة أشهر مذ تزوجهاالخ ([1])
غرض داچی کله شرعا فرش ثابت دی اواولاد دمنکوحی زید ته منسوب دی اودده څخه ثابت النسب دی نودزید نکاح دخپل اولاد سره نه سی کيدی اودا انجلی دزید دورور وریری سوی قال ﷺ : الولد للفراش وللعاهر الحجر ([2]). فقط

دميريزي (علاتی) خور داولاد سره نکاح: **سوال**: (۵۳۸) يوسړی خليل خان دخپل ميريزی خوريی مروان جانم دلمسی سره نکاح کړيده دانکاح شرعا جائزده اوکه نه؟ دخور څخه مراد دادی چی مروان دخليل جان دميريزی خور چی دپلار لور يی ده زوی دی رخصت تر اوسه نه دی سوی فريقين وايی چی که نکاح جائزهم نه وی مورږ زنا کوو څه حکم دی؟

جواب: دميريزي خور داولاد سره نکاح کول داسی حرام دی لکه چی دخپلی خور داولاد سره حرام دی لکه چی باری تعالی دمحرماتو په بيان کی فرمايلي دي: وبنات الاخ وبنات الاخت. وفی تفسير المداك: واخواتکم لاب وام او لاب اولام وعماتکم من الاوجه الثلاثة وخالاتکم کذا وبنات الاخ کذلك الخ وبنات الاخت کذلك ([3]) وفی الخازن: وبنات الأخ وبنات الأخت وهي عبارة عن كل امرأة لأخيك أو لأختك عليها ولادة يرجع نسبها إلى الأخ أو الأخت فيدخل فيهن جميع بنات أولاد الأخ والأخت وإن سفلن (خازن ص ۳۴۰ ج۱).

ددی آخری عبارت مطاب صفا دادی چی ورور اوخور عينی دی اوکه اخيافی ددوی اولاد ترلاندی پوری حرام دی نودعلاتی خوريی دلمسی سره نکاح کول قطعی حرام دی اوحرمت ددی په نص قطعی صريح سره ثابت دی چی کم سړی ددی مرتکب دی هغه فاسق فاجر اوعاصی دی اودفريقينو داويل په مقابله دحکم دشريعت کی چی که څه هم عقد حرام ولی نه وی الخ سخته ګناه اوزړه ورتياده دوی لره سمدستی توبه کول پکاردی اوانجلی رخصت کول پکار دي ځکه چي دا نکاح نه ده سوي اوکه دوی ددې فعل څخه توبه ونه کړی نوخاندان والا دي دوی سره متارکت وکړی اوچی کم خلګ ددوی معاون اومددګاره دی هغه ټول ګنهګار فاسق او دشريعت مقابله کوونکی به ګڼل کيږی اوپه داسی زړه ورتيا دشريعت په مقابله کولو کی دکفره بيره ده. سمدستی ټولو لره توبه کښل لازم دی اودا نکاح باطله ده اوباطله دی وګڼل سی دانکاح داسی ده چی سړی دخپلی مور لور ياخورسره نکاح کوی. فاعتبروا يٰا اولی الابصار.والله ولی التوفيق وآخر

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۸۲۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۵۰. ظفير
([2]) مشکوٰة شريف. ظفير
([3]) مدارك ص ۱۲۹ ج۱. ظفير

دعوانا ان الحمد لله رب العالمین والسلام علی من اتبع الهدی.

دوهم فصل

حرمت دنکاح په سبب دمصاهرت

چې دکمې ښځې سینې یې را ونیولې ددې سره دده دزوی نکاح صحیح نه ده: سوال: (۵۳۹) بکر دیوې بالغې انجلۍ سینې په نظر دشهوت ونیولې یعنې صرف مسه یې کړې اوجماع یې ونه کړه دانجلۍ سره دبکر دزوی نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې دبکر دزوی نکاح ددې انجلۍ سره صحیح نه ده، کذا فی الدر المختار والشامی ([1]) . فقط

دخواښې په شهوت سره مچولو باندې ښځه دهمیشه دپاره حرامیږي: سوال: (۵۴۰) که خپله ښځه په وجه دلمس یادقبله بالشهوت دخپلې خواښې یا دخوښینې حرامه سي نو په تجدید دنکاح سره حلالیږي اوکه دهمیشه دپاره حرامیږي؟

جواب: دخواښې مسه کول بالشهوت علی شرطه کولو سره ښځه دهمیشه دپاره حرامیږي جلا کول ددې واجب دي بیا کله هم داپه نکاح کې نه سي راتلې ([2])، اوخوښینه مسه کول په شهوت که څه هم حرامه ده خو دده ښځه په دې نه حرامیږي ([3]).

چې کمه خوښینه یې په شهوت سره ونیوله هغه پرخپل خاوند نه حرامیږي: سوال: (۵۴۱) په هندې داتهمت لګول کیږي چې دده اخښې ددې قمیص لیرې کې اوددې په سینو یې ګوتې ووهلې صرف دزید چې دنوموړي دخاوند سکه ورور دی داشاهدي اداکوي، که دا شاهدي ومنل سي نوپه نکاح کې خوڅه فرق نه راځي اوهنده خوپه خپل خاوند خونه حرامیږي؟

جواب: که دهندې اخښې داحرکت دهندې سره کړې هم وي نوهنده په خپل خاوند نه حرامیږي ځکه چې ددې وجه دحرمت نسته ([4]) ددې څخه علاوه دیوسړي په قول سره

([1]) و([2]) وحرم ایضا بالصهریة أصل مزنیة الخ وأصل ممسوسة بشهوة الخ وأصل ماسة الخ وفروعهن مطلقا (درمختار) لأن المس والنظر سبب داع إلی الوطء فیقام مقامه في موضع الاحتیاط قوله: بشهوة أي ولو من أحدهما قوله: مطلقا یرجع إلی الأصول والفروع أي وإن علون وإن سفلن (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲). ظفیر

([3]) وفی الخلاصة وطئ اخت امرأة لا تحرم علیه امراة ای لاتثبت حرمة المصاهرة (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۴). ظفیر

([4]) ولو زنت امراة رجل لم تحرم علیه وجاز له وطؤها عقب الزنا (رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۴). ظفیر

داتهمت ثابتیدی هم نه سی که خاوند په خپله هم دا کار ووینی نودده ښځه په ده نه حرامیږی باقی که دهندی اوددی داخښی په مینځ کی حقیقتا دامعامله سوی وی نودوی دواړه گنهگار سوه توبه دی وکاږی همدا یی کفاره ده.

دزوی ښځی لره یی په شهوت گوتی وروړی خودوه عادل شاهدان نسته څه حکم دی؟ سوال:

(۵۴۲\) یوسړی دخپل زوی ښځی ته دوی شپی دزنا په نیت ولاړی چی کله په دوهمه شپه دغه مذکوره سړی دمذکوره بی بی سینو ته لاس وروړی نودا راویښه سوه اوشور یی وکی خلگ جمع سول اودا فعل دیو مولوی په مخکی ثابت سو اوس دامولوی ددی خبرو څخه انکار کوی شرعا څه حکم دی؟

جواب: که داسړی یادده زوی دمسه بالشهوة څخه انکاری وی اوددوو عادلانو سړو یادیوه سړی اوددوو عادلانو ښځو په شاهدی دامس بالشهوت ثابت نه وی نوحرمت دمصاهرت به په دی صورت کی نه ثابتیږی ځکه چی حرمت دمصاهرت په هغه حقوقو کی دی چی په هغه کی ددوو سړو یادیوه سړی اوددوو ښځو دشاهدی ضرورت دی په درمختار کی دی: ولغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا اوغیره کنکاح وطلاق الخ رجلان اورجل ومرأتان ([1]) الخ وفی باب المحرمات منه وادعت الشهوة الخ وانکرها الرجل فهو مصدق لاهی ([2]) درمختار ملخصا. فقط

صرف په دی گمان چی دهندی خاوند دهندی دمور سره وطی کړیده هنده حرامه نه سوه:

سوال: (۵۴۳\) دوړی هنده نکاح ددې اولیاء دیوبالغ سړی سره وکړه اودا بالغ سړی دهندی دمور سره اوسیدل شروع کړل اودده گډون دهندی دمور سره دومره سو چی خلگو ته گمان راغی چی داسړی دهندی دمور سره صحبت کوی نودهندی نکاح یی بل ځای وکړه شپږ میاشتی وروسته ده هم هنده دکورڅخه وایستله بیاهنده بالغه سوه ددریم سړی سره یی نکاح وکړه دهندی سره صحبت وکی بیاده هم هنده وایستله اوطلاق یی ورکی نوایا صرف دخلگو په گمان هنده په اول خاوند دهمیشه دپاره حرامه سوه اوکه نه؟ اودوهم عقد صحیح سو اوکه نه؟ اودوهم خاوند چی هنده دکوره وایسته اومعلومه نه ده چی طلاق یی ورکی اوکه نه؟ نوصرف په ایستلو طلاق واقع کیږی اوکه نه؟ غرض داچی دوهمه اودریمه نکاح صحیح ده اوکه نه اوس اول خاوند هم هندی ته طلاق ورکړیدی نوپه دی صورت کی په عده ختمیدو سره هنده دځلورم خاوند سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ص ۵۱۵ ج۴. ط.س. ج۳ ص ۴۶۵. ظفیر
([2]) ایضا فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفیر

جواب: صرف په ګمان هنده په خپل خاوند نه حرامیږی (۱) اوبغیر دمخکی خاوند دطلاق څخه چی کمه دوهمه دریمه نکاح سویده داباطله ده اوکه چاپه دی کی صحبت کړیدی نو هغه حرام فعل دی توبه دی وکاږی (۲) اواوس چی ورته مخکنی خاوند طلاق ورکی او دده دخول اوخلوت هم نه وو نوبی له عدی دبل سړی سره نکاح دهندی صحیح ده.

دصلبی زوی دښځی سره نکاح حرامه ده: **سوال**: (۵۴۴/۱) زید دخپل سکه زوی دښځی سره نکاح کړیده دانکاح جائزده اوکه نه؟ اهل اسلام زیدته وویل داستا دپاره حرامه ده دا پریږده توبه وکاږه، زید نه دابښځه پریږدی اونه توبه کاږی دداسی سړی سره تعلق ساتل او په خپل قبرستان کی یې ښخول اومړی ته یی غسل ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دخپل سکه زوی دښځی سره نکاح قطعا حرام ده اودا دمحرمات ابدیه څخه ده هیڅ کله هم ددی سره نکاح نه جائز کیږی الله عز وجل فرمایی: وحلائل ابناءکم الذین من اصلابکم، (۳) اوحرام دی پر تاسی ستاسی دصلبی زامنو ښځی. نو مذکوره نکاح باطله سوه اومذکور سړی لایق دتعزیر اودتنبیه دی، اوکه دی توبه نه کاږی اودا ښځه دځان څخه جلانه کړی نودده سره قطع تعلق پکاردی اودمړی دغسل ورکولو خدمت دی هم نه ورڅخه اخیستل کیږی.

ځوان زوم اوخواښی دواړه په یوځادر کی څملی نوحرمت دمصاهرت به راځی اوکه نه؟

سوال: (۵۴۵/۱) ځوان زوم اوځوانه خواښی په یوکټ کی یوځادر یی اغوستی وو او بیده سوه اومعمولی جامی یی اغوستی وی ترڅو شپو پوری داسی وسوه دشهوت کیدو یانه کیدو تحقیق هم ددی وجه ونه سو چی کیدی سی په مضاجعت کی ددی ضرورت نه وی نوآیا دمضاجعت داحکم دی چی ددی موجب دحرمت کیدل پر تحقیق دشهوت موقوف دی اوکه داحکم دی چی په شان دبعضو صورتو دتقبیل داموجب دحرمت دی. الا ان یتیقن بعدم الشهوة. بیا ددی دیقین شرعا څه ذریعه ده آیا قسم اوکه بل څه؟

جواب: په مضاجعت کی ماسوا ددی څخه چی مس دی بل څه یقینی امر نسته یعنی معانقه یامباشرة فاحشه ضرور نه ده اوپه مس کی حکم دحرمت مصاهرت په شهوت سره وی اوپه عدمِ شهوت کی ددوی قول سره دقسمه مصدق دی خوچی انتشار وغیره معلوم

---

(۱) الیقین لایزول بالشك، یا هغه اقرار وکړی یا شرعی شاهدان وی. ددوی په ګمان هیڅ شی نه کیږی. ظفیر

(۲) لا یجوز للرجل أن یتزوج زوجة غیره وکذلك المعتدة الخ ولو تزوج بمنکوحة الغیر وهو لا یعلم أنها منکوحة الغیر فوطئها تجب العدة وإن کان یعلم أنها منکوحة الغیر لا تجب حتی لا یحرم علی الزوج وطؤها (عالمګیری کشوری باب الحرمات قسم سادس ص۲۸۸ ج۳ ط. ماجدیة ج۳ ص۲۸۰). ظفیر

(۳) سورة النسآء : ۲۴. ظفیر

وی نوددوی دقول تصدیق دی ونه سی. کما فی الشامی ولم یذکر المس وقدمنا عن الذخیرة ان الاصل فیه عدم الشهوة مثل النظر فیصدق اذا انکر الشهوة الا ان یقوم الیها منتشرا ای لان الانتشار دلیل الشهوة ([1]) الخ. فقط

دښځی په دهوکه کی په حالت دشهوت کـی یـی لـور تـه ګـوتی یـوړی څه حکم دی؟ سوال: (۵۴۶\) یوسړی په حالت دشهوت کی خپلی لور ته په ګمان دښځی ګوتی وروړي خوچی معلومه سی چی لور ده اوښځه نه ده فوراً لاس لیری کوی. ښځه دده پرده حرامه سوه او که نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وکذا لوفزعت فدخلت فراش ابیها عریانة فانتشر لها ابوها ما تحرم علیه امها وفی الشامی قوله فدخلت فراش ابیها کنی به من المس والا فمجرد الدخول فی الفراش بغیر مس لایعتبر ([2]) شامی ص ۲۸۳ ج۲. ددی روایت څخه معلومیږی چی په حالت دشهوت کی بغیر دځه پردی څخه خپلی مشتهات لور ته په ګوتو وړلو ددی مور یعنی دده ښځه پر حرامه سوه.

دپلار دمنکوحی سره دطلاق څخه وروسته واده جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۵۴۷\) یوسړی دیوی ښځی سره عقد وکی خونه خلوت سوی وو اونه دی سړی لیدلی وو، اونه دده کورته راغلی وه اوده طلاق ورکی دطلاق څخه وروسته دده زوی ددی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: نه یې سی کولی ([3]) (ولا تنکحوا ما نکح اباءکم) .

دمنکوحی دمور سره نکاح: سوال: (۵۴۸\) عمر دهندی دوړی لور سره نکاح وکړه خو مجامعت یی نه وو کړی لږ وخت وروسته کونډه سوه، دهندی لور ته عمر طلاق ورکی او دهندی سره یی نکاح وکړه اواولاد یی پیداسو نودا اولاد به ولد الحلال وی اوکه نه؟

جواب: دعمر نکاح دهندی سره په هیڅ حال کی اوپه هیڅ وخت کی صحیح نه ده اولاد چی پیداسو داولد الحرام دی لکه چی په درمختار کی دی: وام زوجة وجداتها مطلقا بمجرد العقد وان لم توطا ([4]). فقط

دزوی دښځی سره نکاح دهمیشه دپاره حرامه ده که نه ترڅـه وختـه پوری؟ سوال: (۵۴۹\)

([1]) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر

([2]) رد المحتار فصل فی المحرمات ج۲ ص ۳۸۹. ظفیر

([3]) وتحرم زوجة الاصل والفرع بمجرد العقد دخل بها او لا (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۱). ظفیر

([4]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۱. ظفیر

دزوی دښځی سره نکاح حرامه ده همیشه اوکه وروسته دطلاق یا دوفات دده ځخه بیا نکاح جائزده اودارکم دوراره دښځی سره نکاح وروسته دمرګ دده ځخه جائزده اوکه نه؟

جواب: دزوی دښځی سره نکاح همیشه حرامه ده (١) اودورارہ دمرګ ځخه وروسته دعدی ځخه وروسته دده دښځی سره نکاح جائزده.

چاچی دخواښی سره زنا وکړه نودده ښځه باید څه وکړی.: **سوال**: (١٥٥٠) زید دخپلی لور هنده دعمر سره نکاح کړی وه خوتراوسه لاهنده دعمر کورته نه وه تللی اوعمر به دزید کره تلی راتلی، په دی دوران کی عمر دزید ښځی سره زنا وکړه یوسړی اودوو ښځو هم لیدلی وو ددی ځخه وروسته عمر دشرم دوجه ځخه بل وطن ته ولاړی چی لس یولس کاله تیر سوه اولاپته دی اومزنیه په مخکی هم اقرار کوی اواوس هم په خپل اقرار قائمه ده چی زوم زماسره بدفعلی کړیده اومذکوره شاهدان تراوسه پوری پرقول قائم دی اوس دهندی نکاح دعمر سره باقی ده اوکه په حرمت دمصاهرت رفع اوفسخ سوه اودبل خاوند سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وبحرمة المصاهرة لایرتفع النکاح حتی لایحل لها التزوج باخر الابعد المتارکة وانقضاء العدة (٢) الخ قوله الا بعد المتارکة ای وان مضی علیها سنون کما فی البزازیة وعبارة الحاوی الابعد تفریق القاضی اوبعد المتارکة (٣) الخ. نوواضحه سوه چی په صورت مسئوله کی بی دتفریق دقاضی ځخه یا دخاوند دپرېښیدو ځخه هنده دبل سړی سره نکاح نه سی کولی خوددی وجه چی عمر مفقود الخبردی پر بناء دمذهب دامام مالك چی احنافو هم فتویٰ باندی ورکړیده چی دلاپته کیدو ځخه وروسته څلور کاله وروسته ښځه دمفقود به عده دوفات پوره کوی بیا دوهمه نکاح کولی سی، په شامی جلد ثالث باب المفقود کی دی: قوله خلافا لمالك فان عنده تعد زوجة المفقود عدة الوفاة بعد مضی اربع سنین (الی ان قال) لقول القهستانی لوافتی فی موضع الضروة لاباس به علی ما اظن (۴) الخ. او دمالکیهٔ دفقه په کتابونو کی دی: ولزوجة المفقود الرفع الی للقاضي والوالي ووالی الماء والا فلجماعة المسلمین فیوجل الحر اربع سنین ثم اعتدت کالوفاة ولا یحتاج فیها الاذن من الحاکم ، فقه مالکیه (وګوری: الحیلة الناجزة ص ۱۲۴. ظفیر)

---

(١) وحلائل ابناء کم الذین من اصلابکم (النساء: ۲۴). ظفیر

(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفیر

(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفیر

(۴) رد المحتار کتاب المفقود ص۴۵۲ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۲۹۵. ظفیر

چي کمي ښځي ته په شهوت ګوتي وروړي دهغې دلمسۍ سره نکاح جائزنه ده: سوال:
(۵۵۱) عمر يوې ښځي ته په شهوت لاس ور وړی نودعمر نکاح ددی ښځی دلمسۍ سره جائزده اوکه نه؟
جواب: دعمر نکاح په دی صورت کی ددی ممسوسه بالشهوت دلمسۍ سره صحيح نه ده. کمافی الرد المحتار قال فی البحر اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعا وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسبا ورضاعا ([1]) الخ . فقط
دزوی ښځه يي بربنډه کړه او ماسوا دجماع يي ورسره هرڅه وکړل نوڅه حکم دی؟ سوال:
(۵۵۲) نتهو دخپل زوی فتو دښځی سره ناجائز فعل کول غوښتل اودفتو پرښځی دومره قادرسو چي دايي بربنډه کړه اودناجائز فعل مرتکب سو خو دښځی رضا نه وه نو پر دی قادر نه سو لکه چي په ستنه کی تار پروت وی، اودا امرچي داسی ونه سوه دفتو دښځی په ژبه معلوم سو نوددی ښځی نکاح دفتو سره جائز پاته سوه اوکه نه اودفتو يادده دښځی په معاف کولو سره دنتهو داګناه به معاف سی اوکه نه؟ دارنګه دفتو مور هم شاهدی ورکوی چي اراده يي وه خودافعل ونه سو ددی څخه ماسوابله شاهدی يي نسته؟
جواب: حرمت مصاهرت صرف په مس بالشهوت هم ثابتيږی وروسته که دخول په فرج داخل کی هم نه وی سوی بياهم حرمت مصاهرت ثابت سو ([2]) اودفتو ښځه پرفتو حرامه سوه نوفتو لره په کاردی چي داښځه جلا کړی خوکه فتو ته ددی فعل يقين نه وی اونه دوه شاهدان ددی فعل سته نوصرف دښځی په ويلو سره به حرمت نه ثابتيږی اوددی ښځی جلا کول پر فتو لازم نه دی ([3])، باقی که په حقيقت کی دنتهو څخه داحرام فعل سوی وی نودفتو يادده دښځی په معاف کولو داګناه نه سی معاف کيدی داداللهﷻ په وړاندي ګناه ده اوکه نتهو توبه کښلی وی نوچی کمه دالله ﷻ په وړاندي ګناه ده هغه معاف سوه اوچی کمه دفتوحق تلفی سويده هغه به دفتو په معاف کيدوسره معاف سی.
دښځی دلورسره يی دصحبت کوشش وکی نوڅه حکم دی؟ سوال:(۵۵۳) زيدکونډی هندی

([1]) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفير
([2]) وحرم ايضا بالصهرية اصل مزنية واصل ممسوسة بشهوة واصل ماسة الخ وفروعهن مطلقا والعبرة للشهوة (درمختار) قوله مطلقا يرجع الی الاصول والفروع ای وان علون وان سفلن (رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۳۲). ظفير
([3]) وثبوت الحرمة بلمسها مشروط بأن يصدقها ويقع في أكبر رأيه صدقها وعلى هذا ينبغي أن يقال في مسه إياها لا تحرم على أبيه وابنه إلا أن يصدقها أو يغلب على ظنه صدقها ثم رأيت عن أبي يوسف ما يفيد ذلك الخ (البحرالرائق فصل فی المحرمات ص۱۰۷ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۱۰۰). ظفير

سره نکاح وکړه هندی سره دمخکی خاوند یوه لور چی دلسو کالو په عمر کی ده راغله زید ددی انجلی سره صحبت وکی خو دنابالغه کیدو اودمقام دتنګ کیدو دوجه څخه دخول ونه سو خوزید دداخلولو ډیر کوشش وکړی نوهنده دزید په نکاح کی پاته سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید منکوحه په زید حرامه سوه داجلا کول پکاردی (۱).

دزوی دښځی دعوٰی ده چی خسر زما سره زنا کړیده اوخسر انکار کوی نوڅه حکم دی؟

سوال: (۵۵۴\) زینب دعوه کړیده چی زما سره زما خسر زنا وکړه دشپی په وخت اوڅوك شاهد نسته زینب قسم واخیستی اوددی خسر انکار کوی نودزینب قول معتبردی اوکه نه؟

جواب: بغیر دمعتبري شاهدی څخه صرف دزینب قول ددی دخاوند په حق کی معتبر نه دی (۲) یعنی داښځه به دخپل خاوند څخه نه جلا کیږی بلکی که زینب اوددی خسر یعنی زانیه اومزنیه دواړه مقر دزناوی خوخاوند یی نه منی اومعتبره شاهدی هم نه وی نو دخاوند په حق کی به حرمت ثابت نه وی (۳).

چی دچا کوزده په طور دایجاب اوقبول وسی دهغه دمور سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۵۵۵\) دبالغ عبدالله کوزده دنابالغی انجلی سره په طور دایجاب اوقبول وسوه دانجلی پلار ایجاب وکی اودا انجلی په کوچنی والی مړه سوه اوپه ژوند کی دخپل مور اوپلار سره وه. اوپه وخت دایجاب څه خطبه دنکاح نه وه سوی اوس ددی انجلی پلار هم مړسو اوس عبدالله دانجلی دمور سره نکاح کول غواړی نودا جائزده اوکه نه؟

جواب: که دانجلی پلار ایجاب کړی وی اوبالغ هلك قبول کړی وی ددوو شاهدانو په مخکی نونکاح صحیح سوه اوددی انجلی مور په محرمات ابدیه وو کی دده سوه اوددی

---

(۱) قال فی البحر اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة علی اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعا وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسبا ورضاعا کما فی الوطی الحلال (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲) قال فی المعراج بنت خمس لا تکون مشتهاة اتفاقا وبنت تسع فصاعدا مشتهاة اتفاقا فیما بین الخمس والتسع اختلاف الروایة والمشائخ والاصح انها لایثبت الحرمة (البحر الرائق فصل فی المحرمات ص۱۰۲ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۹۹). ظفیر

(۲) ان ادعت الشهوة فی تقبیله او تقبیلها ابنه وانکرها الرجل فهو مصدق لا هی (الدرالمختار علی هامش رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۳۷). ظفیر

(۳) وثبوت الحرمة بلمسها مشروط بأن یصدقها ویقع في أکبر رأیه صدقها وعلی هذا ینبغي أن یقال في مسه إیاها لا تحرم علی أبیه وابنه إلا أن یصدقها أو یغلب علی ظنه صدقها ثم رأیت عن أبي یوسف ما یفید ذلك (البحر الرائق ص۱۰۷ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۱۰۰). ظفیر

هلك ددی سره نکاح هیڅکله هم نه ده صحیح په درمختار کی دی: وحرم بالمصاهرة بنت زوجة الموطوئة وام زوجته وجداتها مطلقا بمجردالعقد الصحیح وان لم توطأ الزوجة (۱).

دیوې نابالغی انجلی سره کوزده په طور دایجاب اوقبول وسوه اومړه سوه نوددی دمور سره نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال:** (۵۵۶\) دعبدالله دیوی نابالغی انجلی سره کوزدې په طور دایجاب اوقبول وسوه عبدالله دغه وخت موجود وو اوبالغ وو انجلی نابالغه وه ایجاب ددی پلار کړی وو انجلی په کوچنی والی مړه سوه دخپل مور اودپلار په پالنه کی وه نه خطبه سویده اونه جماع اودانجلی پلار هم مړسو اوس عبدالله دانجلی دمور سره نکاح کول غواړی خوعلماء دې ته حرام وایی. خونور علماء وایی چی دانجلی سره دخول نه دی سوی که دخول سوی وی نوحرامه کیدله ځکه چی دهرو دواړو دخول شرط دی اوزیات صورت دجواز ځکه غواړی چی دوی په خپلو کی داسی ګډوډ دی چی بیره دزناده نوکه څه صورت دجواز وی نوفتویٰ ورکړی اوپوره حواله تحریر کړی.

جواب: دښځی دمور سره نکاح کول هیڅکله هم صحیح نه دی ځکه چی داپه محرمات ابدیه وو کی ده کما فی الدرالمختار: وحرم بالمصاهرة بنت زوجة الموطوئة وام زوجته وجداتها مطلقا بمجرد العقد الصحیح وان لم توطأ الزوجة (۲) . والله اعلم

دزید پلار چی کله دزید دښځی سره زنا وکړه نو دزید ښځه پرده باندی حرامه سوه: **سوال:** (۵۵۷\) دزید پلار دزید دښځی سره بدفعلی وکړه اوزید په خپلو سترګو ولیدله. نوآیا پرزید دده ښځه حرامه سوه اوکه نه؟ اودنکاح څخه وروسته یی ساتلی سی اوکه نه؟ یوه سړی جواب ورکړیدی چی حرامه نه سوه فتویٰ صحیح ده اوکه نه؟

جواب: چی کله دزید پلار دزید دښځی سره زنا مس بالشهوة بی حائله وکړه نودا ښځه پر زید حرامه سوه په شامی کی دی: قال فی البحر اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعا وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسبا ورضاعا کما فی الوطئ الحلال (۳) الخ ص۳۷۹ ج۲ شامی. نو په حکم د: ولا تنکحوا ما نکح آباءکم من النساء (۴) الآیة، موطوة الاب که وطی په نکاح وی اوکه په زنا سره دزوی دپاره حرامیږی اوپه شامی کی دفتح القدیر څخه منقول دی: وبقولنا قال مالك في روایة وأحمد ، وهو قول عمر وابن مسعود وابن عباس في الأصح وعمران

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۷۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۰. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح فصل فی المحرمات ص۳۷۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۲. ظفیر

(۳) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر

(۴) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

بن الحصين وجابر وأبي وعائشة وجمهور التابعين كالبصري والشعبي والنخعي والأوزاعي وطاوس ومجاهد وعطاء وابن المسيب وسليمان بن يسار وحماد والثوري وابن راهويه (۱) الخ، نوچى كم سړى فتوىٰ دحلت وركړيده نوده خلاف وكى دتمام جليل القدر صحابه اودتابعينو څخه. قال فى الدرالمختار وبحرمة المصاهرة لايرتفع النكاح حتىٰ لايحل لها التزوج بآخر الابعد المتاركة (۲) الخ. قال فى الرد المحتار قوله الابعد المتاركة اى وان مضى عليها سنون كما فى البزازيه وعبارة الحاوى الابعد تفريق القاضى اوبعد المتاركة (۳) الخ ص ۲۸۳ ج۲. شامى.

حاصل داچى كه پلار دزوى دښځى سره وطى وكړى نودا ښځه پر زوى حرامه سوه خو نكاح بى دپرې ښوولو څخه يا دتفريق دقاضى څخه فسخ او مرتفع به نه وى خو پر زوى لازم دى چى دا ښځه جلا كړى اوددى سره متاركت وكړى.

دخواښى سره دزنا څخه وروسته ښځه هميشه حراميږى: سوال: (۵۵۸\) يو سړى دخپلى خواښى سره متهم سو په شنيع فعل اودا سړى تراوسه دخپلى ښځى سره دى كه دده دښځى نكاح دعدى څخه وروسته دبل چاسره وسى بيا دده څخه طلاق واخيستل سى او بيا ددې دمخكنى خاوند سره نكاح وسى نوصحيح ده اوكه نه؟

جواب: كه په حقيقت كى ددى سړى دخپلى خواښى سره زنا كړى وى نودده ښځه په ده باندى دهميشه دپاره حرامه سوه هيڅ وخت دى ددى سره نكاح نه سى كولى اوجلا كول دخپلى ښځى په ده واجب (۴) دى خوترڅو چى دى په خپله ددى فعل اقرار ونه كى يادوه عادل شاهدان نه وى ترهغه وخته پورى به حكم دحرمتِ مصاهرت نه وى.

دغير مدخوله مطلقه ښځى دمور سره نكاح جائزده اوكه نه؟ سوال: (۵۵۹\) عائشه خپله نابالغه لور كريمن عثمان ته واده كړه اوس عثمان كريمن ته چى دهغه سره يى همبسترى نه ده كړى طلاق وركړى اوددى دمور عائشې سره نكاح كول غواړى آيا دانكاح جائزده اوكه نه؟

جواب: دعثمان نكاح په دى صورت كى دعائشې سره صحيح نه ده ځكه چى دښځى مور يعنى دخپلى خواښى سره نكاح په هيڅ حالت كى صحيح نه ده دښځى سره يى صحـــبت

(۱) رد المحتار فصل فى المحرمات ص۳۸۴ – ۳۸۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۳. ظفير

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فى المحرمات ص۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفير

(۳) رد المحتار باب ايضا ص ۲۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفير

(۴) اذافجر الرجل بامرة ثم مايكون محرما لامنتها لانه حرم عليه نكاح ابنتها على التابيد وهذا دليل ان المحرمة. تثبت بالوطى الحرام ومما تثبت به حرمة المصاهرة (البحر الرائق ص ۱۰۸ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۱۰۱). ظفير

کړی وی اوکه نه کما قال الله تعالیٰ وامهات نساءکم (۱) الآیة. فقط

چې مچ یې کړه اوانزال ونه سو بیاهم حرمت ثابتوي: **سوال:** (۵۲۰) زید دهندی ښځه مچه واخیسته اوپه شهوت سره یې مس کړله خودزید انزال ونه سو نه زید دهندی سره وطی کړیدی نوچې وطی اوجماع نه دی سوی نودامام شافعی په نزد زید دهندی دلور زینب سره نکاح کولی سی که زید دهندی دلور سره نکاح وکړی نومرتکب دشرعی جرمونه به وی اوکه نه؟ اوزید حنفی دی.

جواب: په مچ کولو اومس بالشهوت سره حرمت دمصاهرت ثابتیږی ددی وجه ښځه دزید نکاح دهندی دلور سره صحیح نه ده اوحنفي په دی مسئله کی دامام شافعی په مذهب عمل صحیح نه دی. (۲)

دخپلې لور سره یې زنا وکړه نوښځه باندې حرامه سوه اوکه نه؟ **سوال:** (۵۲۱) یوسړی دخپلی سکه لور سره زنا وکړه اوحمل وسو اودوی میاشتی وروسته داحمل ضائع سو نو په دی صورت کی ددی سړی ښځه دده دپاره حلاله ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ښځه پرده دهمیشه دپاره حرامه سوه (۳) خوکه پلار ددی فعل څخه انکار کوی اوعادلان شاهدان دزنا موجود نه وی نوبیابه حرمت ثابت نه وی کماهو حکم الکتاب.

چې داکا ښځې څخه یې مچه واخیسته نو دهغې دلور سره نکاح جائزنه ده: **سوال:** (۵۲۲) زید په هغه وخت کی چی کله دده شهوانی قوتونو په شرم اوحیا اوپه نیك اوپه بدو په هرڅه اوبه واړولی دهندی دبدن چی دده داکا ښځه وه مچه واخیسته اوداپه خوب بیده وه په داسی صورت کی چی هغه بیده وه زید ددی دلور سره چی دده داکالور ده عقد کولی سی اوکه نه په دوهم صورت کی څه امکانی صورت سته ددی سره چی دزید دا فعل دعقل اودهوش په وخت نه وو اونه ورته ددې مسئلې دسختی علم وو؟

---

(۱) سورة النساء: ۲۴. وحرم بالمصاهرة بنت زوجة الموطوئة وام زوجة وجداتها مطلقا بمجرد العقد الصحيح وان لم توطأ الزوجة لما تقرر ان وطی الامهات یحرم البنات ونکاح البنات یحرم الامهات الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۲ - ۳۸۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۰). ظفیر

(۲) والزنا واللمس والنظر بشهوة یوجب حرمة المصاهرة الخ واللمس والنظر سبب داع الی الوطی فیقام مقامه في موضع الاحتیاط (البحر الرآئق کتاب النکاح ص۱۰۵ ج۳، ط.س. ج۳ ص۹۸) قبل ام امرأته في ای موضع کان حرمت علیه امرأته ما لم یظهر عدم الشهوة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۲۸۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۵). ظفیر

(۳) ان النظر الی فرج ابنته بشهوة یوجب حرمة امرأته وکذا لوفزعت فدخلت عریانة فانتشر لها ابوها تحرم علیه امها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷). ظفیر

جواب: چې مسه یې په شهوت اومچه یې اخیستې وی نوحرمت دمصاهرت ثابت سو نو دزید ددی دلور سره نکاح کول صحیح نه دی اولا علمی اوغلبه دشهوت عذرنه دی. کذا فی الدرالمختار (۱).

زوی دمیریزي مور سره زنا وکړه نودا دده پرپلار حرامه سوه اوکه نه؟ **سوال**: (۵۲۳) که یو سړی دخپل پلار دښځی یعنی میریزي مور سره زنا وکړه نودا ښځه دده دپلار دپاره حلاله پاته سوه اوکه نه؟

جواب: دابنځه دده دپلار دپاره حلاله نه سوه کما فی رد المحتار قال فی البحر اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربعة حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعه (۲) الخ. خوکه ثبوت دزنا په شرعی شهادتونو نه وی اوپلار داتسلیم کوی هم نه نودپلار په ذمه جلا کول ددی واجب نه دی اودده په حق کی حرمت به نه وی ثابت. (۳)

په غلطی سره دمور یادخور سره یی لاس ولګیدی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۵۲۴) یوسړی دشپی په وخت دجماع اراده وکړه خوچی تیاره وه نوپه خطاء سره یی دخور یادمور ښځه لاس ولګیدی ایا ددی سړی نکاح ماته سوه اوکه نه؟

جواب: که دخپلی مور یا دخور سره یی لاس ولګیدی نوپه هیڅ صورت یی ښځه دنکاح څخه نه وزی که لاس یی په شهوت لګیدلی وی اوکه بغیر دشهوته .

دمزنیه هره لور پرزانی حرامه ده: **سوال**: (۵۲۵) چی کم سړی داووایی چی په خبر مشهور سره پرکتاب الله زیاتی جائزنه دی اودمزنیی لور پرزانی مطلقا حرامه نه ده بلکی چی کمه لور دمزنیی دزانی دزنا څخه وروسته ده. نودا خوپر ده حرامه ده خوچی کمه دزنا څخه مخکی پیدا سویده هغه دزانی دپاره حلاله ده دداسی سړی په نسبت څه عقیده لرل پکاردی؟

جواب: دمزنیی لور پرزانی مطلقا حرامه ده. قال فی الشامي عن البحر اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعا وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسبا ورضاعا (۴) الخ. اوزیاتی په کتاب الله په خبر مشهور

---

(۱) وحرم ایضا بالصهریة اصل مزنیة واصل ممسوسة بشهوة الخ وفروعهن مطلقا والعبرة للشهوة عند المس (در ولافرق فیما ذکر بین اللمس والنظر بشهوة بین عمد ونسیان وخطاء واکراه (الدرالمختار علی هامش رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۴ – ۳۸۷ ج۲، ط.س. ج۳ ص۳۱). ظفیر

(۲) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر

(۳) وان ادعت الشهوة تقبیله او تقبیلها ابیه وانکرها الرجل فهو مصدق لا هی (درمختار) فهو مصدق لانه ینکر ثبوت الحرمة والقول للمنکر (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۷). ظفیر

(۴) ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر

سره جائزدی کما بین فی اصول الفقه نوچی کم سړی دمزنیه لور دزانی دپاره حلاله وایی هغه حنفی نه دی غالبا غیر مقلد اوصاحب اومتبع دهوٰی دی قابل داقتداء (امامت) نه دی.

چی کم هلک دخپلی میریزي مور سره دزنا اقرار کوي دده به اعتباروي اوکه نه؟ سوال: (۵۲۶\) یوهلك ددی خبری اقرار کوی چی ما دخپلی میریزي مور سره زنا کړیده خو چاپه دی لیدلی نه دی نوپه داسی صورت کی دابنځه پرخاوند حرامه ده اوکه حلاله؟

جواب: دهلك اقرار دده دپلار اودده دښځی په حق کی معتبر نه دی پر پلار دده ښځه نه حرامیږی. قال فی الردالمحتار کذا اذا قر بجماع امها قبل الزوج لایصدق فی حقها (۱) الخ، نوچی کله دخاوند اقرار دجماع دمور دښځی سره دښځی په حق کی معتبر نه دی نو دزوی اقرار به دمور اوپلار په باره کی هم معتبر نه وی.

ښځی وویل زما سره زما دخاوند پلار زنا وکړه نوحرمت ثابت سو اوکه نه؟ سوال: (۵۲۷\) یو سړی خپله ښځه بی عذر شرعی په غسل کولو ولیدله دسبب په پوښتنه کولو دی جواب ورکی ستا پلار زما سره زناکړیده په دی صورت کی دامنکوحه پرده حرامه سوه اوکه نه؟

جواب: صرف دښځی په ویلو دخاوند په حق کی حرمت نه ثابتیږی خوکه خاوند ددی تصدیق وکی نوبیا دی خپله منکوحه جلا کړی. (۲)

خوابنی یا لورته په شهوت گوتی وروړلو سره ښځه حرامیږی: سوال: (۵۲۸\) که یو نادان دخپلی خوابنی یادلور بدن ته په شهوت وگوری یا ددوی سره زنا وکړی یافرج داخل ته یی په شهوت وگوری یایی مچ کړی یاورته گوتی وروړی نوآیا ښځه پر ده حرامیږی؟ او بیا به دا ځنگه خپله په نکاح کی راولی؟

جواب: حرامیږی اوبیا دا په نکاح کی راوستل صحیح نه دی. (۳) فقط

په حالت دشهوت کی خوابنی زوم ته گوتی وروړی نوځه حکم دی؟ سوال: (۵۲۹\) زید ته ددی خوابنی قصداً په دی حالت کی گوتی وروړی چی کله دزید آلۀ تناسل په حرکت کی وه اوپه طبعیت کی یی شهوت غالب وو اوزید هم دی لره گوتی وروړی نودزید دښځی دپاره څه حکم دی؟

---

(۱) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر

(۲) وثبوت الحرمة بلمسها مشروط بأن يصدقها ويقع في أكبر رأيه صدقها وعلى هذا ينبغي أن يقال في مسه إياها لا تحرم على أبيه وابنه إلا أن يصدقها أو يغلب على ظنه صدقها (البحر الرائق فصل فی المحرمات ص۱۰۷ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۱۰۰). ظفیر

(۳) وحرم ایضا بالصهریة اصل مزنیة واصل ممسوسة بشهوة الخ وفروعهن مطلقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲). ظفیر

جواب: په مسه بالشهوت سره هلته حرمت ثابتیږی چی کله بی له کلکی پردی څخه وی نو که پرېنډو جامو سربیره یې مسه کړی وی نوحرمت مصاهرت ثابت نه سو. کذافی الدر المختار قال فی الشامی: قوله بحائل لایمنع الحرارة ولوبحائل الخ فلوکان مانعا لاتثبت الحرمة، کذا فی اکثر الکتب. (۱) فقط

چی کمه ښځه مړه سوه دهغې دهغه لور سره چی دبل خاوند څخه ده نکاح جائزده اوکه نه؟

سوال: (۵۷۰\۱) حاجی محمد سعید کلکته خلاصی ټوله نمبر ۱۸۵ په کتاب خلاصة النکاح ص۷ باندی لیکی چی دکمی ښځی سره تا نکاح کړی وی اوهغه مړه سی نوددی لورچی دپخوانی خاوند څخه وی دهغې سره نکاح جائزده هکذا فی الهدایه داصحیح دی اوکه نه؟ یعنی دمیریزی لورسره ددی دمور دمرگ څخه وروسته نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دمدخوله ښځی هغه لور چی دپخوانی خاوند څخه ده ددوهم خاوند دپاره همیشه حرامه ده ځکه چی دا ددی سړی ربیبه ده اودربیبه حرمت په نص قطعی ثابت دی. قال الله تعالٰی: وربائبکم اللاتی فی حجورکم من نساءکم اللاتی دخلتم بهن فان لم تکونوا دخلتم بهن فلاجناح علیکم. (۲) خوکه ددی منکوحه سره وطی نه وی سوی اوبغیر دوطی دا طلاقه یا مړه سی نوبیا ددی دلور سره نکاح صحیح ده. کما قال الله تعالٰی فی آخر الآیة المذکورة : فان لم تکونوا دخلتم بهن فلاجناح علیکم . فقط

دخوښینی سره یې زنا وکړه نوښځه حرامه نه سوه خوکه دخواښې سره یې زنا وکړه نوحرامه سوه: **سوال**: (۵۷۱\۱) چا دښځی په وجود کی دخوښینی سره زنا وکړه نوښځه پرده حرامه سوه اوکه نه؟ اوکه دخواښې سره چا زنا وکړه نوښځه باندی حرامه سوه اوکه نه؟ اوکه حرامه سوه نو دحلالیدو څه صورت یې سته اوکه نه؟

جواب: دخوښینی سره په زنا کولو باندی ښځه نه حرامیږی (۳) اودخواښې سره په زنا کولو سره ښځه پرده حرامیږی چی دحلالیدو بیا هیڅ صورت یې نسته (۴). فقط

دزوی دکوندې سره نکاح حرامه ده اوچی کم اولاد پیدا سویدی دهغه پرورش دی وسی؟

سوال: (۵۷۲\۱) دعبدالرحمٰن نکاح دخپل مړ زوی سعید دښځی غفورن سره صحیح ده

---

(۱) ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر

(۲) سورة النسآء : ۲۴ . ظفیر

(۳) وطی اخت امرأته لاتحرم علیه امراته (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۴). ظفیر

(۴) والزنا واللمس والنظر بشهوة یوجب حرمة المصاهرة الخ وأراد بحرمة المصاهرة الحرمات الأربع : حرمة المرأة علی أصول الزاني وفروعه نسبا ورضاعا وحرمة أصولها وفروعها علی الزاني نسبا ورضاعا کما في الوطء الحلال (البحر الرائق فصل في المحرمات ص ۱۰۵ - ۱۰۸ ج۳، ط.س. ج۳ ص۱۰۱) . ظفیر

اوکه نه؟
۵۷۳\۲: چی کم اولاد ددی مذکوره نکاح څخه وروسته ددی دواړو څخه وسو نودهغه پالنه به څوك کوی؟
۵۷۴\۳: اوس عبدالرحمٰن اوغفورن لره څه کول پکاردی؟
۵۷۵\۴: عبدالرحمٰن اوغفورن او ددوی اولاد که په برادری کی داخلیدل غواړی نوپه کمو شرطونو کیدی سی.
جواب: ۱، ۲، ۳، ۴: دعبدالرحمٰن نکاح دخپل زوی دښځی غفورن سره حرامه اوناجائز سویده ([1]) او دا نکاح نه ده سوی ددوی بیلول پکاردی اوعلاقه دنکاح منقطع گڼل پکاردی اوتوبه او استغفار کول پکاردی، دتوبی او داستغفار څخه وروسته دوی دواړه په برادری کی شامیلدلی سی اوداولاد پالنه دی کوی ددوی پالنه ضروری اوکار دثواب دی ([2]). فقط

دنامرد هلک ښځه هم دپلار دپاره حرامه ده: **سوال**: (۵۷۶\) الله رکهی نومي ښځه چی ځوانه ده ددی نکاح دیو داسی هلك سره وسوه چی دنیاوی کارونه نه سی انجامولی او قوت باه ده کی گرسره پیداکیږی نه، په شان دمخنث دی ددی هلك پلار دخپل زوی دښځی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟
جواب: دزوی دښځی سره نکاح حرام قطعی ده کما قال الله تعالی: وحلائل ابنائکم الذین من اصلابکم، (سورة النساء : ۲۴) په دی آیت کی په محرمات ابدیو کی دزوی ښځه هم ذکرده نودزوی ښځه که څه هم غیر مدخوله وی په نکاح کول قطعی او دائمي حرام دی ([3]) او دبل سړی سره ددی ښځی نکاح هلته کیږی چی داخاوند ورته طلاق ورکړی بغیر دطلاقه دبل سړی سره ددی نکاح به صحیح نه وی. فقط

منکوحه غیر مدخوله ته طلاق ورکول او ددی دمور سره نکاح کول څنګه دی؟ **سوال**: (۵۷۷\) دیرش کلن زید دهندی دلس کلنی لور سره نکاح وکړه په موده دشپږو میاشتو کی دښځی

---

[1] وحرم بالمصاهرة بنت زوجة الموطوئة الخ وزوجة اصله وفرعه مطلقا ولوبعيدا دخل بها اولا (درمختار) وتحرم زوجة الاصل والفرع بمجرد العقد دخل بها اولا (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲). ظ

[2] داولاد نسب به دعبد الرحمٰن څخه ثابت وي، او پالنه يې هم پر هغه باندي ضروري ده، وبحرمة المصاهرة لا يرتفع النكاح حتى لايحل له التزوج باخر الا بعد المشاركة وانقضآء العدة والوطوء بها لايكون زنا (درمختار) أي الوطء الكائن في هذه الحرمة قبل التفريق والمتاركة لا يكون زنا قال في الحاوي والوطء فيها لا يكون زنا ؛ لأنه مختلف فيه، وعليه مهرالمثل بوطئها بعدالحرمة ولاحدعليه ويثبت النسب الخ (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷). ظفير

[3] وتحرم زوجة الاصل والفرع بمجرد العقد دخل بها اولا (ردالمحتار ص۳۸۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۹). ظفير

اوخاوند څه تعلق ونه سو شپږ میاشتی وروسته زید دهندې لورته طلاق ورکی اودهندی دمور سره یی نکاح وکړه نودا نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید نکاح دهندی سره صحیح نه ده قطعا حرامه ده اودهندی سره نکاح همیشه حرامه سویده ځکه چی دمنکوحه مور صرف په نکاح حرامیږی که څه هم دمنکوحی سره یی وطی نه وی کړی کما قال الله تعالی: وامهات نسائکم الایة، (۱) او مفسرینو اوفقهاؤ تصریح کړیده چی دیوې ښځی سره په نفس نکاح ددی مور پرناکح حرامیږی په خلاف دربیبه څخه چی ددی مورته دوطی څخه مخکی طلاق ورکړی نو دربیبه سره نکاح صحیح ده کما قال الله تعالی: وربائبکم اللاتي في حجورکم من نسائکم اللاتي دخلتم بهن فان لم تکونوا دخلتم بهن فلا جناح علیکم (۲) الآیة. قال فی الدر المختار وحرم المصاهرة بنت زوجته الموطوءة وأم زوجته وجداتها مطلقا بمجرد العقد الصحیح وإن لم توطأ الزوجة لما تقرر أن وطء الأمهات یحرم البنات ونکاح البنات یحرم الأمهات (۳) الخ . فقط

دښځی دمورسره نکاح حرامه ده: **سوال**: (۵۷۸) دیوسړی عقد دپیغلی انجلی سره وسو چی دری کاله دده ښځه پاته سوه اوبیا مړه سوه، دانجلی دمور سره دی سړی نکاح وکړه نودا نکاح جائز ده اوکه نه، دخاوند بیان دی چی زه دخپلی مخکنی ښځی سره یوه ورځ هم نه یم پرېوتلی، ددی سړی سره مسلمانانو لره څنګه پکار دی؟

جواب: دښځی دمور سره نکاح همیشه حرامه ده که څه هم ښځه مدخوله نه وی کما قال الله تعالی: وامهات نسائکم (۴) الایة وفی الدرالمختار حرم علی التزوج اصله وفرعه (الی) وام زوجته وان لم توطأ (۵) الخ نوپه دوی کی دی مفارقت وسی اوکه یې نه منی او توبه نه کاږی نومسلمانان دی ددوی سره تعلق ختم کړی.

چی دکمی ښځی سره زوی زنا وکړه هغه دپلار دپاره حرامه سوه: **سوال**: (۵۷۹) زید دهندی سره زنا وکړه نودزید پلار بکر دهندی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ دښځی څخه چی اول پوښتنه وسوه نوده انکار وکی، بیایی دومره اقرار وکی چی زه بیده وم زید راغی او ناجائز فعل یی شروع کی اودخول ونه سو حال دادی چی زید وایی چی زه دې پخپله را وغوښتلم اوزنا یی وکړه په داسی صورت کی څه حکم دی؟

---

(۱) سورة النساء: ۲۴ . ظفیر
(۲) ایضا ط.س. ج۳ ص ۲۹. ظفیر
(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۲ - ۳۸۳ ج۲ . ط.س. ج۳ ص ۳۰. ظفیر
(۴) سورة النساء: ۲۴ . ظفیر
(۵) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۲ - ۳۸۳ ج۲ . ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر

جواب: چې دکمې ښځې سره زوی زنا وکړی هغه پرپلار حرامه ده لکه چې په شامی کې دبحر څخه منقول دی: قال فی البحر اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المراة علی اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعا وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسبا ورضاعا (۱) الخ. نودحرمة الموطوئة علی اصول الزانی څخه معلومه سوه چې دکمې ښځې سره زوی زنا وکړه هغه پرپلار حرامه ده خوچې دزنا ثبوت پرشرعی شاهدانو نسته او اقرار دیوسړی پربل حجت نه دی، نوکه پلار دزید یعنی بکر ددی تصدیق نه کوی ووایی چې داغلط دی نوبکر دهندی سره نکاح کولی سی.

دنیکه دموطوئه سره نکاح جائز نه ده که څه هم په مینځ کې مرتده سوی هم وي: سوال:

(۱۵۸۰) زید دنیمو شلو کالو په عمرکی داوولسو کالو دښځې سره نکاح وکړه څوکاله تیر سوی نه وه چې دی مړسو مذکوره ښځه شواله ته ولاړه او(هندوه) سوه اوبت پرستی یی شروع کړه، دزید لمسی کوشش وکی او دامسلمانه سوه او دمیریزي لمسی سره یی ناجائز تعلق جوړکی، ایا پرزید باندي دښځي ارتداد څه اثر پیدا کولی سی چې دانا او دلمسی رشته منقطعه کړی.

جواب: دارتدادڅخه وروسته چې داښځه مسلمانه سوه نوچې کم حرمت مصاهرت مخکی وو نوهغه اوس هم قائم دی دزید دلمسی او ددغه ښځې په مینځ کې حرمت دهمیشه دپاره دی: ولا تنکحوا مانکح آباءکم من النسآء (۲). فقط

دزاني دزوي سره دمزنيې دلور نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۱۵۸۱) دزید دښځې هنده ناجائز تعلق دجمیل سره دوه کاله پاته سو اوزید ترڅه مودې پوری دمزدوری په سلسله کی بهرووـ په واپسی کی زید ته علم وسو هغه دخپلی ښځې سره خپل وطن ته ولاړی او دجمیل سره ددی تعلق پاته نه سو څلور کاله وروسته دزید اودهندی په کور کی انجلی پیدا سوه نوایا دا انجلی ناجائز تعلق ساتونکی جمیل دخپلی منکوحی په اولاد کی دیو هلك په نکاح کی راوستلی سی اوکه نه؟

جواب: دهنده دبطن څخه چې کمه انجلۍ پیدا سوه هغه به شرعاً دزید څخه شمارل کیږي او دزید څخه ددې نسب ثابت دی، دزاني څخه به ددې نسب ثابت نه وی، لقوله ﷺ الولد للفراش وللعاهر الحجر، (۳) نودزید اولاد ددې انجلۍ خوندي او وروڼه دي په دوی کي دهیڅ یوه هلك سره ددې انجلۍ نکاح صحیح نه ده، کما قال الله تعالی: حرمت علیکم

(۱) رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر
(۲) سورة النساء: ۲۳. ظفیر
(۳) مشکوٰة باب اللعان صلّی الله علیه وسلّم ۲۸۷ . ظفیر

امهاتکم وبناتکم واخواتکم [1] الآیة ، اوکه چیري دسوال کوونکي مراد داوي چي ددې زاني دمنکوحه زوجه څخه چي کم زوی دی دهغه نکاح ددې انجلۍ سره جائز ده اوکه نه؟ نو ددې جواب دادی چی ددی زانی دزوی سره دزید اودهندی دلور نکاح صحیح ده ځکه ددوی په مینځ کی هیڅ رشته نسته. [2]

دمور سره دزنا کولو څخه وروسته ددې دلور سره نکاح حرامه ده لکه څنګه چي یې دکمې انجلۍ سره وطی وکړي دهغې مور حرامه ده: **سوال:** (۵۸۲) دهندی دوې لوڼی دی عزیز دمحلی والا په ذریعه دمشری لور درخواست وکی هندی ته. هندی وویل: دکشری لور په نکاح دعزیز سره راضی یم خودمشری لور په نکاح دعزیز سره راضی نه یم خوچی دهندی مشره لور بالغه وه اودعزیز سره په نکاح کولو راضی وه ددی وجه څخه ددی نکاح دعزیز سره وسوه چی کله هندی ته معلومه سوه نودا په ډیره غصه کی دنکاح ځای ته راغله او شوریی جوړ کړه چي دانکاح جائزنه ده ځکه چی ترډیر وخته پوری زما دعزیز سره ناجائز تعلق پاته سویدی زما اول اولاد هم دده څخه دی بلکه دایی هم وویل چی زما دمشری لور سره هم دده تعلق ناجائز پاته سویدی، ځکه خودا دعزیزسره په نکاح کولو راضی سویده، اوعزیز وایی چی دادروغ دی زه خوهنده خپله مور ګڼم عزیز اوهنده اودعزیز منکوحه په یوکورکی اوسیدل اوس څه موده وروسته عزیز دهندی تصدیق کوی اوعزیز دیوعالم په مخکی بیان ورکړیدی چی واقعی زما دهندی سره ناجائز تعلق وو. بیا عزیز دخپلی منکوحی نکاح بی دطلاقو ورکولو دبل چاسره وکړه اوعزیزخپله دخپلی منکوحی دمور سره نکاح وکړه په داسی حالت کی دعزیز نکاح دهندی سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وفی الخلاصة قیل له ما فعلت بأم امرأتك فقال جامعتها تثبت الحرمة ولا یصدق أنه کذب ولو هازلا الخ قوله ولا یصدق أنه کذب إلخ أي عند القاضي أما بینه وبین الله تعالی إن کان کاذبا فیما أقر لم تثبت الحرمة شامی [3] نو معلومه سوه چی قاضی به دده داقرار په تصدیق حکم دحرمت دمصاهرت وکی اوپه دی صورت کی به دعزیز نکاح دهندی دلور سره صحیح نه وی خوکه دهنده دلور سره عزیز

---

[1] سورة النساء: ۲۴. ظفیر

[2] ویحل لاصول الزانی وفروعه اصول المزنی بها وفروعها (البحر الرائق فصل فی المحرمات ص ۱۰۸ ج۳ ، ط. س. ج۳ ص ۱۰۱). ظفیر

[3] وګوره ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۹۰ ج۲ ، ط.س. ج۳ س۲۸. ظفیر

وطی کړی وی نوبیا دهندی سره هم نکاح نه سی کیدی. ([1]) که څه هم دعزیز په اقرار دهندی سره دزنا دعزیز نکاح دهندی دلور سره فاسده سوه خوکه ده وطی کړی وی نو دمتارك ځخه وروسته بغیر دعدی تیریدو دهندی دلور نکاح دبل سړی سره صحیح نه ده ([2]). فقط

ښځی چی دکم نابالغ سره زنا وکړه دده سره ددی دلور نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۵۸۳\) یوی کونډی ښځی بالغی دیوه نابالغ هلك سره دشهوت په جوش کی بدفعل وکی ددی ښځی یوه لورده ددی هلك سره ددی انجلی نکاح وسوه دانکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: که داهلك نابالغ مراهق وو یعنی بلوغ ته نژدی ؤ چی دده عمر دولس کاله یا ددې ځخه زیات وو نوحرمت مصاهرت ثابت سو اودمزنیی دلور نکاح ددی هلك سره صحیح نه سوه داجلا کول په کاردی اوکه دا نابالغه هلك ددولسو کالو نه وو یعنی مراهق نه وو نو حرمت مصاهرت په دی سره نه ثابتیږی اودمزنیی دلور سره ددی هلك نکاح صحیح سوه لکه چی په درمختار کی دی: فلوجامع غیر مراهق زوجة ابیه لم تحرم ([3]) الخ وفیه ایضا ومراهق ومجنون وسکران کبالغ (درمختار) ای فی ثبوت حرمة المصاهرة بالوطی او المس الخ شامی ([4]). فقط

دنهو کالو انجلی ته چی چاپه شهوت ګوتی وروړی نوددی دلور سره یې نکاح جائز نه ده:

سوال: (۵۸۴\) زید دیونهو کالو انجلی ته په شهوت ګوتی وروړی نوزید ددی ممسوسه ښځی دلور سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دممسوسه بالشهوت ښځی دلور سره نکاح جائز نه ده ([5]) . فقط

خسر دزنا انکار کوی او مرور یې بیانوی څه حکم دی؟ سوال: (۵۸۵\) یوه پاك دامنه ښځه قسم کوی چي زما خسر زما سره دری ځلور واره زنا وکړه. مادشرم دوجه ځخه ښکاره نه

([1]) وحرم ایضا بالصهریة اصل مزنیة اراد بالزناء الوطؤ الحرام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲). ظفیر

([2]) وبحرمة المصاهرة لا یرتفع النکاح حتی لایحل له التزوج بآخر الا بعد المتارکة وانقضاء العدة والوطی بها لا یکون زنا (ایضا ص ۳۷۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷). ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح فصل فی المحرمات ص۳۸۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۲. لا بد فی کل منهما من سن المراهقة واقله للانثی تسع وللذکر اثنا عشر لان ذلك اقل مدة یمکن فیها البلوغ کما صرحوا به فی باب بلوغ الغلام. ظفیر

([4]) وګوری رد المحتار کتاب النکاح فصل فی المحرمات ص ۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر

([5]) وحرم ایضا بالصهریة اصل مزنیة الخ وفروعهن مصلقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲) وبنت تسع فصاعدا مشتهاة اتفاقا (البحر الرائق فصل فی المحرمات ص۱۰۲ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۹۸). ظفیر

کړه اوددی خسرهم قسم اخلی چی زه کله هم دداسی فعل مرتکب سوی نه یم اوددی ښځی خسر سودخور فاسق تارك الصلوات په دی صورت کی دچا قول به معتبر وی؟

جواب: شرعا دیوسړی اقراردهغه ترذاته پوری محصوروی اودده دذات په باره کی مقبول وی پرنورو نه حجت کیږی په خلاف دمعتبر شهادته څخه چی په معتبري شاهدی ثابت وی هغه پرتمامو خلګو حجت کیږی: لان الاقرار حجة قاصرة قال فی الدرالمختار لما تقرر ان اقراره مقبول فی حق نفسه الخ درمختار. نو بناءاً پردې ددی مذکوره ښځی داقرار اثر ددی پرخاوند اوپرخسر نه پریوزی. یعنی چی کم حرمت دمصاهرت په حق دخاوند کی ثابتیږی هغه به نه ثابتیږی نوکه ددی ښځی خاوند ددی شنیع فعل تصدیق ونه کی نودا ښځه به پرده حرامه نه وی په شامی کی دی: وکذا اذا اقر بجماع امها قبل التزوج لایصدق فی حقها ([1]) الخ ص ۳۸۳ جلد ثانی، شامی.

په شهوت سره په ګوتو اړولو سره حرمت ثابتیږی نه صرف په صورت لیدلو: **سوال**: (۴۸۲) دیو سړی دیوې ښځی سره پاك محبت وو ددی دلور سره یی دنکاح خبری وسوی چی دهغه دوجه څخه یی په محبت کی زیاتوالی راغی اوکله کله به ده دی ښځی سره مینه هم کوله اونظر بالشهوة به یی هم کیدی په داسی صورت کی ددی دلور سره نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: مینه او دبدن سره لاس لګول که په شهوت سره وی نو ددی سره حرمت مصاهرت ثابتیږی بیا ددی دلور سره ددغه سړی نکاح صحیح نه ده اوکه مس بالشهوت نه وی نو ددی دلورسره نکاح صحیح ده اونظر کول په شهوت سره هلته موجب دحرمت دی چی کله دا فرج داخل ته وسی کنې نه دی، په درمختار کی دی: واصل ممسوسة بشهوة والمنظور الی فرجها الداخل الخ وفروعهن ([2]) الخ.

دزنا الزام دی زانیه اومزنیه انکار کوی شاهد صرف یوسړی دی څه حکم دی؟ **سوال**: (۵۸۷) پرزید اوحلیمه دا الزام لګول سوی دی چی دوی په خپل مینځ کی زنا کوی ددی وجه څخه لور دحلیمه پرزید حرامه سویده خوزید اوحلیمه یې په یومکان کی په شپه تیرولو باندی لیدلی دی یوشاهد بیان کوی چی زید اوحلیمه یی په خبرو اترو کولو لیدلی دی خوپه خپلوسترګو پرزنا هیچا هم نه دی لیدلی په دی صورت کی حرمت دمصاهرت ثابت

([1]) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹٠ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳۹. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۵ ج۲ لان المس والنظر سبب داع الی الوطی فیقام مقامه فی موضع الاحتیاط هدایه، واستدل لذالك فی الفتح بالاحادیث والاثار عن الصحابة والتابعین (رد المحتار باب ایضا ص ۳۸۵ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳۲). ظفیر

دی اوکه نه؟ یوسړی وایی چی زید دزنا اقرار هم کړیدی.

جواب: چی کم مذکوره قرائن بیان سویدی، په دی سره دزنا ثبوت نه کیږی خوکه اقرار دزید ددوو شاهدانو عادلانو مسلمانانو څخه ثابت وی نوموجب دحرمت دمصاهرت دی یعنی په اقرار دده سره دزید نکاح دحلیمی سره صحیح ده اودزنا داقرار څخه وروسته دزید انکار دده په حق کی معتبرنه دی لکه چی په درمختار کی دخلاصه څخه منقول دی: قیل ما فعلت بام امراتك فقال جامعتها تثبت الحرمة ولایصدق انه کذب ولو هازلا [1] الخ . فقط

یوه نفر سینه نیول بیان کړل اوبل مچول نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۵۸۸) زید شاهدی ورکوی چی عمر دخپل زوی دښځی هندی سره بربنډ پروت وو اودښځی سینه یی نیولی وه اوخالد شاهدی ورکوی چی ما ولیدل چی زید دخپل زوی دښځی څخه مچه واخیسته په دی صورت کی حرمت مصاهرت ثابتیږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید په بیان کی دا امر مذکور نه دی چی سینه نیول په شهوت سره وو اوکه نه دارکم په مچولو کی هم دشهوت ذکر نسته اوبیا دامچول هم دیوشاهد بیان دی اوسینه نیول هم دیوشاهد بیان دی اودواړه شاهدان پریوه خبره متفق نه دی ددی وجه څخه حرمت دمصاهرت به په دی صورت کی ثابت نه وی.

په درمختار کی دی: وتقبل الشهادة علی الاقرار باللمس والتقبیل بالشهوة کذا تقبل علی نفس اللمس والتقبیل الخ عن شهوة [2] الخ. نوپه دی صورت کی نه پرلمس باندی پوره شاهدی اونه پرتقبیل باندی پوره شاهدی موجوده ده او دشاهدانو په بیان کی اختلاف هم ښکاره دی، ددی وجه څخه حرمت مصاهرت به ثابت نه وی.

چی چا مامی مچ کړه دهغه دلور سره نکاح جائزنه ده: **سوال**: (۵۸۹) زید خپله مامی جمیله مچ کړه اوکله یی لاس یاپښه ونیوله نودزید نکاح دجمیلی دلور صغری سره جائز ده اوکه نه؟

جواب: په داسی صورت کی دزید نکاح دبی بی جمیلی دلور سره جائزنه ده اوکه سوی وی نوجلاکول پکاردی ځکه چی په شهوت سره په مچولو وغیره باندی حرمت مصاهرت ثابتیږی اوکه په شهوت کی شك وی نودجواز فتوٰی به ورکول کیږی [3] . فقط

---

[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۵۰ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳. ظفیر

[2] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ج۲ ص ۳۹۰. ط.س. ج۲. ص ۳۷. ظفیر

[3] وفي التقبیل اختلف فیه قیل لا یصدق لأنه لا یکون إلا عن شهوة غالبا ، فلا یقبل إلا أن یظهر خلافه بالانتشار ونحوه، وقیل یقبل وقیل بالتفصیل بین کونه علی الرأس والجبهة والخد فیصدق أو علی الفم فلا =

دزانيې دلور سره نكاح جائزده اوكه نه اوددې نكاح څخه وروسته دوهمه نكاح كله صحيح ده؟

سوال: (۵۹۰) زيد دهندی سره زنا وكړه ددې څخه وروسته زيد دهند دلور فهميده سره نكاح وكړه خوفهميده ته دحرمت مصاهرت علم وو نودی دزيد سره كور آبادول خوښ نه كړل اوبی دفسخ دنكاح څخه يې اول دعمر سره نكاح وكړه چی دهغه څخه اولاد هم پيداسو په دی صورت كی اوله نكاح فاسده ده اوكه نه؟ اوپه حرمت مصاهرت طاريه او عارضيه ابتدائيه على النكاح كی څه فرق سته اوكه نه اواولاد به دعمروی اوكه دزيد؟

جواب: اوله نكاح فاسده ده اودې ته باطله هم ويلی سی لكه چی محققين احناف وايی چی په نكاح باطله اوفاسده كی څه فرق نسته اونكاح ثانی بی دتفريق دقاضی يابی دمتاركت څخه صحيح نه ده: وبحرمة المصاهر لا ترتفع النكاح (درمختار ([1])) او په حرمت دمصاهرت كي په ابتدايي اوطاری كی څه فرق نسته اواولاد چی كم دعمر څخه وسو هغه به دعمر وی. كه څه هم نكاح فاسده ([2]) ده.

دښځی سره يې دخلوت څخه مخكې دخوښينې سره زنا وكړه نوښځه حرامه سوه اوكه نه؟

سوال: (۵۹۱) عزت خاتون اوالله نوازی دواړی خوندی دی دالله نوازی نكاح دالله بخش سره وسوه خودشپې دزفاف (يوځای كيدو) څخه مخكی الله بخش دخپلی منكوحی دخور سره زنا وكړه نواوس الله نوازه پرده حرامه سوه اوكه نه؟

جواب: ددی شنيع فعل په سبب دالله بخش منكوحه الله نوازه په ده حرامه نه ده ([3]) بلكه دا فعل بی حيا يعنی دزنا دښځی دخورسره حرام دی ده لره دددې څخه توبه كښل پكاردی. قال فی الدرالمختار: وحرم الجمع بين المحارم نكاحا ای عقدا صحيحا وعدة الخ وحرم الجمع وطئا بملك يمين بين امرأتين ايتهما فرضت ذكرا لم تحل للاخرٰی الخ درمختار ([4]) الخ .

حرمت دمصاهرت په كمه اندازه ليدوسره كيږی؟ **سوال**:(۵۹۲) كم يواندام ته چی په شهوت

= (ردالمحتار ج۲ ص۳۹۰. ط.س. ج۲. ص ۳۷) وإذا قبل أم امرأته أو امرأة أجنبية يفتي بالحرمة ما لم تبين أنه قبل بغير شهوة؛ لأن الأصل في التقبيل هو الشهوة بخلاف المس (البحر الرآئق ص۱۰۷ ج۳، ط.س. ج۳ ص۱۰۰) . ظفير

[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۲ ص۳۷. ظفير

[2] وتقدم فی باب المهر ان الدخول فی نكاح الفاسد موجب للعدة وثبوت النسب (رد المحتار باب العدة ص ۸۳۵ ج۲). ظفير

[3] وفی الخلاصة وطئ اخت امراته لا تحرم عليه امرأته (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المحرمات ص ۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲). ظفير

[4] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المحرمات ص ۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷). ظفير

سره نظر وکړی حرمت دمصاهرت باندی ثابتیږی؟

جواب: قال فی الدرالمختار والمنظور الی فرجها الداخل ([1]) الخ ددې ځخه معلومه سوه چی ماسوا دفرج ځخه بل انداز ته په شهوت کتلو سره حرمت نه راځی.

دمور اودلور ددواړو سره تعلق وی نودکمی یوی سره نکاح جائزده؟ سوال: (۵۹۳\) زید دیو مشتهاة انجلی سره صرف التقاء ختانین کوی اوده ناجائز تعلق دمور دمشتهاة سره دی اوس زید دمذکوره مشتهاة سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: هذ اذا کانت صبیة مشتهاة الخ (درمختار) قوله هذا ای جمیع ماذکر فی مسائل المصاهرة الخ شامی ([2]) نوپه صورت مذکوره کی زید دمشتهاة مذکوره سره نکاح نه سی کولی اونه ددی مشتهاة دمور سره نکاح کولی سی.

چی دکمی ښځی سره یی زنا وکړه دهغې دلور سره نکاح: سوال: (۵۹۴\) زید دهندی سره زنا وکړه دهندی یوه لور ملّی ده زید ددی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی دزید نکاح دملّی سره نا روا ده، وحرم اصل مزنیة وفروعها ([3]).

پلار چی دکمی ښځی سره واده کول غواړی زوی وایی چی ما ددی سره زنا کړیده اوښځه انکار کوی څه حکم دی؟ سوال: (۵۹۵\) دیوسړی بیان دی چی دکمی ښځی سره زما پلار واده کول غواړی هغه زما مزنیه ده اوښځه اووده پلار ددی تصدیق نه کوی؟

جواب: په دی صورت کی ددی سړی بیان خطادی اوشرعا غیر معتبردی اونکاح صحیح ده.

دغیر مدخوله منکوحه مور یی مچ کړه څه حکم دی؟ سوال: (۵۹۶\) یوسړی دخپلی منکوحی غیر مدخوله مورته ورترغاړی وتی اومچ یی کړه په دی صورت کی ښځه دده حلاله ده اوکه نه؟

جواب: قیل ام امراته الخ حرمت علیه امرأته ما لم یظهر عدم الشهود لوعلی الفم وفی المس لاتحرم مالم تعلم الشهوة ([4]) نوپه دی صورت کی چی مس اوتقبیل دواړه سویدی پرده دده ښځه حرامه ده مګر هلته چی شهوت متحقق نه وی نوحرمت به هم بیانه وی.

پلاردزوی دښځی سره نکاح وکړی نوپخپله به طلاق وسی اوکه نه؟ سوال: (۵۹۷) که یوسړی

---

[1] ایضاً باب المحرمات ص۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۲ ص ۳۳. ظفیر

[2] رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۴. ظفیر

[3] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۲. ظفیر

[4] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۵. ظفیر

دخپل زوی دښځی سره زنا وکړی نودا ښځه دده پر زوی حرامیږی اوکه نه؟ اوپه خپله به طلاق واقع سی اوکه نه دطلاق ورکولو ضرورت به وی اودابه کم طلاق وی؟

جواب: دابنځه په زوی حرامه سوه. زوی لره پکاردی چی داپریږدی. اوطلاق یا متارکت ضروری دی اودا طلاق به طلاق بائن وی. ([1]) فقط

دزوی ښځی ته په شهوت گوتی یوسی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۵۹۸۱) زید اقرار کوی چی ما دخپل زوی ښځی ته په شهوت گوتی وروړی دی آیادزید پرزوی دده ښځه حرامه سوه اوکه نه؟ که حرامه سوی وی نونکاح فسخ سوه اوکه تفریق دقاضی ضروری دی که وی نو څوك تفریق کولی سی اودتفریق څه طریقه ده؟

جواب: دزید ویل پرزوی حجت نه سی کیدی خوکه زوی یی هم تصدیق وکړی یاشاهدان په داسی گوتو وروړو سره شاهدي ورکوي چی په هغه سره حرمت دمصاهرت راځی نو پر زوی هغه ښځه چی پلار ورته په شهوت سره لاس وروړی دی حرامه ([2]) سوه، خوبغیر دمتارکت دخاوند څخه یادتفریق دقاضی څخه به نکاح نه فسخ کیږی. دخاوند دمتارکت صورت دادی چی ووایی چی ما داجلا کړه. یا ددې څخه جلاسی. اودقاضی دتفریق صورت دادی چی قاضی شرعی جلاوالی راولی اودیومسلمان حکم هم قائم مقام دقاضی کیدی سی. کما فی کتب الفقه. ([3])

ښځه اوسړی په یوه کټ کی پریوزی نودښځی دلور سره ددی سړی نکاح جائزده اوکه نه؟

سوال: (۵۹۹۱) دیوسړی اودیوی ښځی اقراردی چی بیشکه موږ په یوه کټ کی پروته کړیده خوکټ پلن وو موږ دیوبل سره نه یو لگیدلی. څه فاصله وه اونه موڅه شهوانی خیالات وه نوآیا ددی سړی ددی ښځی دلور سره نکاح جائزده اوکه نه؟

([1]) تزوج بکرا فوجدها ثیبا وقالت ابوك فصی ان صدقها بانت بلا مهر والا لا (الدرالمختار علی هامش رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۲) وبحرمة المصاهرة لا یرتفع النکاح حتی لایحل لها التزوج بآخر الا بعد المتارکة وانقضاء العدة (ایضا ص۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷). ظفیر

([2]) رجل تزوج امرأة علی انها عذراء فلما اراد وفاعها وجدها قداقتضت فقال لها من افتضك فقالت ابوك ان صدقها الزوج بانت منه ولا مهر لها وان کذبها فهی امراته کذا فی الظهیریه (عالمگیریه کشوری کتاب النکاح باب ثالث قسم ثانی ص۲۸۴ ج۲. ط. ماجدیه ج۱ ص۷۳۲). ظفیر

([3]) وبحرمة المصاهرة لا یرتفع النکاح حتی لا یحل لها التزوج بآخر الا بعد المتارکة وانقضاء العدة (درمختار) قوله: الا بعد المتارکة أي ، وإن مضی علیها سنون کما في البزازیة وعبارة الحاوي إلا بعد تفریق القاضي أو بعد المتارکة آه وقد علمت أن النکاح لا یرتفع بل یفسد وقد صرحوا في النکاح الفاسد بأن المتارکة لا تتحقق إلا بالقول إن کانت مدخولا بها کترکتك أو خلیت سبیلك وأما غیر المدخول بها فقیل تکون بالقول وبالترك علی قصد عدم العود إلیها. وقیل : لا تکون إلا بالقول فیهما ، حتی لو ترکها ، ومضی علی عدتها سنون لم یکن لها أن تتزوج بآخر فافهم (ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۸۹ ج۲، ط.س. ج۳ ص۳۷). ظفیر

جواب: كه دواړه دمس بالشهوت څخه منكروى نونكاح ددى سرى ددى ښځى دلورسره صحيح ده. وفى المس لاتحرم ما لم تعلم الشهوة (درمختار (١)). فقط

صرف په لاس لګولو حرمت راځى اوكه نه؟ سوال: (۱۲۰۰) دوه معتبر سړى وايى چى زيد په خپلى خواښى لاس لړ ووهى معلومه نه ده چى شهوت وو اوكه نه؟ جامى په بدن وى اوكه نه؟ په سينه يى وهلو اوكه په بل ځاى؟ خوزيد دشهوت څخه انكاركوى نوپه دى صورت كى به حرمت دمصاهرت ثابت وى اوكه نه؟

جواب: په داسى صورت كى دى حكم دحرمت مصاهرت ونه سى. كمافى الدرالمختار: وفى المس لاتحرم مالم تعلم الشهوة وانكرها الرجل فهو مصدق الخ. درمختار. فقط

كه څوك دبيرى دوجه څخه ووايى چى دميره مور سره مى زنا كړيده نوڅه حكم دى؟ سوال: (۱۲۰۱) پرزيد دخپل پلار دمنكوحى يعنى دميره مور سره دزنا كولو شبهه وسوه په جومات كى څو سړيانو دزيد څخه پوښتنه وكړه اودوباؤ يى باندى واچوى بلكى يوسړى زيد لره پرمخ چپلاخه هم وركړه خوزيد اقرار ونه كى بيازيد يومولوى صاحب چى تقوى دار خداى پرست دى بيل خپلى كوټى ته راوغوښتى اوپه ډيره مهربانى باندى پوښتنه ځيني وكړه چى آياواقعى داستا ناجائز تعلق ستا دميره مورسره سوى دى؟ زيد اقرار وكى، مولوى صاحب څوسړى راوغوښتل اودزيد اقرار يى ورته واوروى سبا زيد خپل همزولي هلك ته بيان وكى چى مادشپى كم اقرار كړى هغه مى دبيرى دوجه څخه كړيدى په اصل كى زما هيڅ ګناه نسته زيد دشپاړسو كالو كم عمره هلك دى دده ميره مور ځوانه ده اوداولاد والاده هغه زيد ته خپل زوى وايى اوزيد دې ته مور وايى اوزيد په خپله دواده والادى ښځه دده په كوركى ده ټول په يوكور كى اوسيږى دزيد ښځه چى كله دميريزى خواښى سره جګړه كوى نودې ته دزيد تهمت وركوى دزنا دسترګو ليدونكى شاهد يادمچولو وغيره څوك نسته دزيد دغه اقرار چى ده دمولوى صاحب په مخكى كړيدى چى ده دڅوكسانو په مخكى وكى دده دجرم كولو ثبوت دى.

سوال دادى چى دزيد ميره مور دزيد پرپلار حرامه سوه اوكه نه؟ په دومره ثبوت مسلمانان دزيد سره خوراك څښاك پريښوولى سى اوكه نه؟

جواب: دزيد ميره مور اودزيد پلار چى كله ددى فعل دزنا اودمس بالشهوة اقرار نه كوى اوشاهدى شرعيه موجوده نه ده نوصرف دزيد په اقرار كولو سره دزيد ميره مور دزيد پر پلار نه حراميږى ښكاره ده چى دزيد اقرار دده دمور او وغيره په حق كى معتبر نه سى

(١) الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ص٣٨٨ ج٢، ط.س. ج٣ ص٣٢. ظفير

کیدی دا مسلم عند الفقهآء ده چی دیوسړی اقرار دبل په حق کی معتبر نه کیږی نودزید دپلار سره خوراك چښاك اوتعلق پرېښوول صحیح نه دی اودزید اقرار سره ددی چی دده مور اوپلار دده تکذیب کوی صرف دروغ اوتهمت دی. چی ددی دمطالبی حق دده میره مورته دی چی پرهغې تهمت ولګیدی اوکه داځه مطالبه نه کوی نونوروته څه حق دمطالبی نسته. قال فی الشامی وکذا اذا اقر بجماع امها قبل التزوج لایصدق فی حقها. شامی ج۲ ص ۲۹۰، وان ادعت الشهوة فی تقبیله اوتقبیلها ابنه وانکرها الرجل فهو مصدق لاهی. درمختار. وقال الشامی لانه ینکر ثبوت الحرمت والقول للمنکر. شامی ص ۳۸۹ ج۲. فقط والله اعلم

لور ته یی بدنیت وکی نوځه حکم دی؟ سوال: (۲۰۲) دزید یوه ښځه زینب اودری لوڼی دی زید دخپل نفسانی خواهش په وجه په خپلی مینځینی لور بدنیت وکی اوخواهش دبد فعل یی وکړی که زینب دزید دښځي مانع سوی نه وای نوبدفعل به سوی وای په داسی حالت کی طلاق جائزسو اوکه نه اودزینب څه حق مهر وغیره سته اوکه نه؟

جواب: صرف په اراده اوپه خواهش دبدفعل زینب پرده حرامه نه ده خوکه په شهوت سره یی په بربنډ حالت کی دلور دبدن سره لاس لګولی وی نوزینب به پرزید حرامه سوی وی ددی جلا کول به په کاروی (۱) اومهر دزینب لازم دی که مدخوله وی پوره کنې نیم (۲).

دمور اودلور دواړو سره چی څوک زنا کوی دهغه څه حکم دی؟ سوال: (۲۰۳) یومسلمان یوه هندوه ښځه په کورکی ساتلی ده اوددی سره ددی یوه ځوانه لور هم ده اودواړه یی مسلمانانی کړی او ددواړو سره عیش کوی نوانجلی حامله سوه اوبچی یې پیدا سو په دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: دمور سره که یی صحبت کړی وی نوددی دلور سره اوس په هیڅ حال کی نکاح نه سی کولی اوکه دمورسره یی زنا نه وی کړی نو دادي جلا کړی اودلور سره یی نکاح صحیح ده قال فی الدرالمختار وبنت زوجة الموطوئة الخ (درمختار) واحترز بالموطوئة عن غیرها فلا تحرم بنتها بمجرد العقد (۳) الخ (شامی) وفی الشامی عن البحر اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعها نسبا ورضاعا

---

(۱) والشهوة تعتبر عندالمس والنظر حتی لووجدا بغیر شهوة ثم اشتهی بعد الترك لاتتعلق به الحرمة (عالمگیری کشوری کتاب النکاح الباب الثالث والقسم الثانی ص۲۸۳ ج۲. ط. ماجدیه ج۱ ص ۲۷۵). ظفیر

(۲) ومن سمی مهر عشر فما زار فعلیه المسمٰی ان دخل بها او مات عنها الخ وان طلقها قبل الدخول والخلوة فلها نصف المسمٰی (هدایه باب المهر ص ۳۸۲ ج۲). ظفیر

(۳) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۰. ظفیر

وحرمة اصولها وفروعها على الزانی نسبا ورضاعا (۱) الخ ۔ فقط

میریزي خواښې که دزوم سره بدن ولګوي نوڅه حکم دي؟ سوال: (۲۰۴) دزید میریزی خواښې هنده په وجه ددښمنۍ دبنی اودمیریزی لور دزید سره داسی بی تکلفی وکړه چی هنده کله دزید پرګونډو خپلی ګونډی کښېږدي ښوولی اوپه یوه بهانه یی خپله سینه دزید داوږی سره لګوله اوکله یی دشا سره وموږله نوپه دی صورت کی دزید ښځه پرزید حرامه سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید ښځه پرزید نه حرامیږي. کذافی الدر المختار وغیره من کتب الفقه (۲) .

دیوولسو کالو هلک چې یوې ښځی ته په شهوت لاس وروړی نو ددی دلور سره دده واده جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۲۰۵) یوهلك چی دهغه عمر یوولس کاله وو دیوی ښځی په غوړونو لاس ووهی په دی دوران کی ددی هلك انتشار وسو. په دی صورت کی حرمت مصاهرت ثابت سو اوکه نه اوددی هلك نكاح ددغه ښځی دلور سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په شامی کی دی: فتحصل من هذا : أنه لا بد في كل منهما من سن المراهقة وأقله للأنثى تسع وللذكر اثنى عشر لأن ذلك أقل مدة يمكن فيها البلوغ كما صرحوا به في باب بلوغ الغلام الخ (۳) وفی الدرالمختار فی باب بلوغ الغلام وادنٰی مدته له اثنتی عشر سنة ولها تسع سنين هوالمختار الخ فان راهقا بان بلغا هذا السن (۴) الخ ددی روایتونو څخه معلومه سوه چی په مذکوره صورت کی چی دهلك یوولس کاله وه نو حرمت مصاهرت نه ثابتیږي اوددی ښځی دلور سره دده نکاح کول صحیح دی.

دربیبه سره نکاح کول صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۲۰٦) دربیبه سره نکاح کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دربیبی سره دنکاح دحرمت ذکر په قرآن کریم کی دی، قال الله تعالی: حرمت علیکم امهاتکم الی قوله تعالی وربائبکم اللاتی فی حجورکم (۵) الایة . فقط

دښځی دمرګ څخه وروسته ددي دخور، خاله، عمه، خورزی یا وریری سره نکاح جائز ده او که نه.؟ سوال: (۲۰۷) دچاچی ښځه مړه سی یا ورته طلاق وکړی نو ددی ښځی دخور،

(۱) رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر

(۲) واصل ممسوسة بشهوة ولو بشعر على الراس بحائل لايمنع الحرارة (درمختار) اى ولو بحائل فلوكان مانعا لا تثبت الحرمة كذا فى اكثر الكتب (رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۵ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳۲). ظفیر

(۳) رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۵. ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب بلوغ الغلام ص ۱۳۲ – ۱۳۳ ج۵ ، ط.س. ج۲ ص ۱۵۳. ظفیر

(۵) سورة النساء : ۲۴. ظفیر

خاله، عمه، خورزی او وریری سره نکاح ددی دخاوند کیدی سی اوکه نه؟ که جائزده نوپه عده کی جائزده اوکه دعدی څخه وروسته؟

جواب: صحیح مسئله داده چی دخپلی ښځی دمرګ څخه وروسته ددی دخور، خاله، عمه، خورزی او وریری سره نکاح فورا یادوی څلور ورځی وروسته کولی سی ځکه چی پرسړی عده نسته اوپه شامی کی یی دې ته صحیح ویلی دی. اوکه خپلی ښځی ته یی طلاق ورکړی رجعی وی اوکه بائن ترڅو چی ددی طلاقی سوی ښځی عده تیره نه سی تر هغه ددی دخور ترور وغیره سره نکاح کول جائزنه دی. په درمختار کی دی: وحرم الجمع بین المحارم نکاحا وعدة ولو من طلاق بائن (۱) اوپه شامی کی دی: الخ فرع: ماتت امرأة له التزوج باختها بعد یوم من اختها (۲) الخ . فقط

دکمی ښځی سره چی دپلار او دزوی دواړو ناجائز تعلق وی ددې سره دیوه هم نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۲۰۸) دیوی کونډی زنانه حمل دی، دزیدبکر، عمر وغیره سره ددی ناجائز تعلق دی خودا فیصله لږ سخته ده چی حمل دچادی خوددی امر اظهار ضروی دی چی زید اوبکر پلار اوزوی دی باقی دعمر وغیره په مینځ کی څه شرعی رشته نسته. آیا ددی ښځی نکاح دزید یادبکر سره کیدی سی که ناجائزوی اونکاح وسی نوڅه حکم دی متعاقدینو لره څه کول پکاردی ددی تلافی یعنی کفاره څه ده دکونډی نکاح کله اودچا سره کیدل په کاردی؟

جواب: که دزید اودبکر ددواړو پلار اودزوی ناجائز تعلق ددی کونډی سره وی یعنی زنا یا مس بالشهوة واقع سوی وی نوددی کونډی سره دزید اودبکر دواړو نکاح نه سی کیدی. ځکه چی دزوی مزنیه پرپلار اودپلار مزنیه پرزوی حرامه ده. که په دوی دواړو کی دیوه سړی سره نکاح سوی وی نودا باطل اوناجائز ده سمدستی په دوی کی تفریق کول پکاردی (۳) اودعمر وغیره سره دي دقاعدی مطابق ددی نکاح وسی اودمجلس دنکاح شریکانو ته که ددی واقعې خبر نه وو یا دمسئلی ورته علم نه وو نودوی ګنهګار نه دی اوزید اوبکر چی کمه ګناه کړیده توبه دی وکاږی دایی کفاره ده. فقط

دزنا څخه چی کم وراره دی دهغه سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۲۰۹) دزائن نومي

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر

(۲) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر

(۳) اراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المراة علی اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعا وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسبا ورضاعا کمافی الوطؤ الحلال (رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲). ظفیر

هندو شخص اودرحیما نومي ډمی ناجائز تعلق پاته سویدی څواولاده پیدا سوه چی په دی کی یوه کریما هم پیداسوه اودنرائن دقومی ښځی زوی پیداسو ددی هلك څخه پرشاد نومي هلك پیداسو نوپرشاد دنرائن لمسی دی اوکریما یی دډمی په رشته لور ده نو دپرشاد دپلار خور کریما سوه نو داترور سوه اوپرشاد دکریما دورور زوی وراره سو، نو په دوی دواړو کی په حیثیت دمسلمان کیدو نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: نکاح ددی دواړو یعنی دپرشاد او دکریما صحیح نه ده. (۱) فقط

دحرمت مصاهرت چی کله شرعی شاهدان نه وی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۱۰) یوسړی دخپلی لور نکاح اوواده دیوهلك سره وکړی هغه هلك مړسو بیاددی انجلی نکاح دمړ خاوند دکشر ورور سره وسوه. انجلی څو واره دخسر کره ولاړه خواوس دتلو څخه انکار کوی اووایی چی زما سره زما خسر زنا بالجبر کړیده زه هلته نه سم تلی اوددی ایندرور هم شاهدی ورکوی دزنا. نوددی انجلی نکاح بی دطلاقه بل ځای کیدی سی اوکه نه اوددی انجلی اقرار بالزنا اوددی دایندرور په شاهدی حرمت ثابتیدی سی اوکه نه حال دادی چی دی طلاق نه ورکوی؟

جواب: صرف ددی انجلی اوددی دایندرور په اقرار سره دخاوند په حق کی حرمت نه ثابتیږی اوپر ده ښځه طلاقه نه سوه بی دخاوند دطلاقه اوبی دعدی تیریدو څخه ددی انجلی نکاح بل ځای جائزنه ده.

دزوی دمدخوله سره دپلار اودده دپلار دمدخوله سره دزوی نکاح جائزنه ده؟ سوال: (۲۱۱) دزوی دمدخوله سره دپلار او دپلار دمدخوله سره دزوی نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دواړه صورته ناجائز دی کما قال الله تعالی وحلائل ابنائکم (۲) الخ. فقط

دممسوسه بالشهوة دبنی دلور سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۲۱۲) یوسړی دیوې پردی ښځی سینی ته په شهوت ګوتی وروړی اوس ددی نکاح ددی ممسوسه دبنی دمورسره جائزده اوکه نه؟

جواب: صحیح ده (۳).

---

(۱) که دواړه مسلمانان وی خوحرمت ښکاره دی. حرم علی التزوج ذکرا کان اوانثی نکاح اصله وفرعه خلا اونزل وبنت اخیه واخته وبنتها ولومن زنا وعمته وخالته الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۹) اوکه یوکافر اوبل مسلمان وی: اسباب التحریم انواع قرابة مصاهرة رضاع جمع ملك شرك (درمختار) کالمجوسیة والمشرکة (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص۲۸). ظفیر

(۲) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

(۳) څه وجه دحرمت نسته. واحل لکم ما وراء ذالکم سورة النساء ۲۴. ظفیر

دنیکه چې کمه ممسوسه ده دهغه دلور سره نکاح جائزنه ده: سوال: (۲۱۲\) دزید نیکه دهندی سره چې ددی عمر اته نه کاله وو زنا وکړه خودکم عمری دوجه څخه دخول ونه سو دهنده واده دبکر سره وسو اواکبره یې پیدا سوه آیا دزید واده داکبری سره جائزدی اوکه نه؟

جواب: که زید ته ددی فعل اقراروی یاپه شرعی شهادتونو ثابت وی نودزید نکاح داکبری سره صحیح نه ده لکه چې په شامی کی دبحر څخه منقول دی چې اصول اوفروع دمزنیې پرزانی حرام دی. وعبارته والمراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربعة ([1]) الخ .

چې کمی نابالغی ته یې په شهوت ګوتی وروړی نودهغې دمور سره نکاح جائزده اوکه نه؟

سوال: (۲۱۴\) یوسړی یوه نالغه انجلی بیدوله اوپه شهوت سره یې دانیولی وه نوددی سړی نکاح ددی دمور سره جائزده اوکه نه؟

جواب: که دا انجلی دنهو کالو وه یا دزیاتو اوددی سره یې مسه بالشهوت کړی وی نو ددی دمور سره نکاح صحیح نه ده هذا اذا کانت حیة مشتهاة درمختار الخ، قوله مشتهاة سیاتی تعریفها بانها بنت تسع فاکثر شامی ([2]) اوکه دا انجلی دنهو کالو څخه دکم عمر وی نوددی دمور سره نکاح جائزده. وبنت سنها دون التسع لیست بمشتهاة درمختار ([3]). فقط

دزوی دښځی سره نکاح جائزنه ده: سوال: (۲۱۵\) دزوی دښځی سره نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دزوی دښځی سره دزوی دمرګ یادطلاق ورکولوڅخه وروسته دپلار نکاح صحیح نه ده بلکه قطعا حرامه ده په قرآن مجید کی دمحرماتو په بیان کی فرمایي: وحلائل ابنائکم الذین من اصلابکم ([4]) یعنی پرتاسی ستاسو دزامنو ښځی حرامی سویدی.

په مخکی یې دخوابنی سره دزنا اقرار وکی اوبیا انکار څه حکم دی؟ سوال: (۲۱۲\) نور الحسن دخلګو سره بی دڅه تکرار څخه بیان وکی چې زما دخپلی خواښی سره ناجائز تعلق وو ددی وجه څخه دی ماته خپله لور په نکاح کړه داخبره چې کله دده خسر ته وسوه نوخپله لور یې دده دکور څخه بوتله اوتکرار وسو چې په دی کی ده خپل خسر ته هم ددی پیغور ورکی خوچې کله خلګو ورته وویل چې اوس خوداستا نکاح پاته سوه نوده دتمامو خلګو په مخکی قسم واخیستی چې ما دا ددروغو الزام لګولی ؤ دارکم دانجلی

([1]) وګوره رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۴ ج۲. ظفیر

([2]) رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۴. ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفیر

([4]) سورة النساء: ۲۴. ظفیر

په مخکی هم ده دناجائز فعل اقرار کړی وو اوس دده ښځه ده ته وروليږو اوکه نه اونکاح دده جائز پاته سوه اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وفی الخلاصه مافعلت بام امراتك فقال جامعتها تثبت الحرمة ولايصدق انه كذب ولا هازلا الخ وفی الشامی قوله ولايصدق انه كذب الخ ای عند القاضی اما بينه وبين الله تعالی ان كان كاذبا فيما اقر لم تثبت الحرمة [۱] الخ ددی عبارت حاصل دادی چی يوسړی اقرار وکی چی ما دخپلی ښځی دمور سره زنا کړيده نو دده ښځه پرده حرامه سوه، ددې څخه وروسته که دی ووايی چی ما دروغ ويلی وه نو قاضی به دده دقول اعتبار نه کوی اوحکم دحرمت دښځی به جاری کوی اوکه قاضی ته معامله نه وه رسيدلی اوخاوند ووايی چی مادروغ ويلی وه. نودا دده اودالله ﷻ په مينځ کی معامله ده. اوښځه به پرده حرامه نه وی.

<u>چی دکمی هندو ښځی سره يی زنا وکړه دهغه دمسلمانی لور سره نکاح کيدی نسی</u>: **سوال**: (۲۱۷\) ديوې هندی زناکاری ښځی سره ديوه مسلمان ناجائز تعلق دی بيا ددی ښځی دلور چی ددی دهندو خاوند څخه پيدا سويده ددی مسلمان سړی سره ناجائز تعلق سو يعنی چی کم ددواړو ښځو سره په زنا يادېږی نوکه دا انجلی اسلام قبول کړی نودا سړی دشريعت په رو نکاح ددی انجلی سره کولی سی اوکه نه ؟

جواب: ددی انجلی سره نکاح نه سی کولی. ځکه چی دمزنيې لور هميشه پرزانی حرامه ده. كذا فی الشامی عن البحر [۲]. فقط

<u>چی کمه کافره ښځه يی په شهوت سره مسه کړه ددی دمسلمانی لور سره يی نکاح جائز نه ده</u>: **سوال**: (۲۱۸\) يومسلمان سړی يوه کافره ښځه په شهوت سره مسحه کړه اوس دا سړی ددی لور مسلمانوی اوورسره نکاح کول غواړی نودا جائزده اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: واصل ممسوسة بشهوة ولوبشعر علی الرأس الخ وفروعهن [۳] مطلقًا ﷺ ددی روايت څخه واضحه ده چی کمه ښځه په شهوت سره مسه سی نودهغې اصول يعنی مور وغيره اوفروع يعنی لوروغيره پرمسه کوونکی دهميشه دپاره حرام سوه که څه هم داښځه کافره وی ددی وجه څخه په دی صورت کی دمذکوره ښځی دلورسره دده

---

[۱] رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۹۰ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفير

[۲] واراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة علی اصول الزاني وفروعه نسباً ورضاعاً وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی نسباً ورضاعاً كما في الوطؤ الحلال (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲). ظفير

[۳] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفير

نکاح صحیح نه ده.

ښځې لره يې دصحبت څخه مخکې طلاق ورکی نو آیا ددې دلور سره نکاح کولی سی؟

سوال: (۷۱۹) زید دهندی سره نکاح وکړه خو دمباشرت څخه مخکی یې دې ته طلاق ورکی، دهندی دلور سره چی دمخکنی خاوند څخه ده دزید نکاح جائزده اوکه نه؟

دولد الحرام انجلی سره دنکاح څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۲۰\۲) آیا دولد الحرام انجلی سره نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: (۱) په دی صورت کی چی دهندی دلور سره چی دبل خاونده څخه ده دزید نکاح صحیح ده لکه الله ﷻ فرمايي: وربائبکم اللاتی دخلتم بهن فان لم تکونوا دخلتم بهن فلا جناح علیکم [1] الآية.

جواب: (۲) جائز دی.

داتو کالو ماشومی لره چی ګوتی وروړی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۷۲۱\۱) یوسړی په وخت دشپې پرخپل پلنګ باندی پروت وو اودده منکوحه پربل پلنګ ددوو لونو سره چی یوه تی رودونکی وه اوبله تقریبا داتو کالو وه پرته وه دی خاوند په اراده دکور والی ښځه را لوړول وغوښتل خودده لاس پرځای دمنکوحی پرانجلی ولګیدی اودښځې په خیال یی په بدن باندی ګوتی ووهلی خوچی کله احساس وسو چی داخو ښځه نه ده نوژر یی لاس ځینی جلا کی اوبدن ته دګوتو وړلو په وخت کی غلبه دشهوت نه وه نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟ اوکه بدن ته ګوتی وروړل په شهوت سره تصور سی نوڅه حکم دی؟ چی انجلی کوچنی هم ده اوپه خطاء هم وسو؟

جواب: په دی صورت کی دده ښځه پرده حرامه نه سوه ولي چی اول خومسه بالشهوة نه وه بل انجلی کوچنی وه چی دې ته په لاس وروړلو سره حرمت مصاهرت نه ثابتیږی، په درمختار کی دی: وبنت سنها دون تسع لیست بمشتهاة به یفتی الخ وفی رد المحتار والاصح انها لاتثبت الحرمة [2] الخ. فقط

خلک وايي خوخپله سړی دخواښی دګېون څخه انکارکوی: **سوال**: (۷۲۲\۱) یوسړی نکاح کړیده دمنکوحی عمر شپاړس کاله دی. دوه سړی مدعین ملاصاحب ته ځی اوبیان کوی چی دانکاح جائزنه ده ځکه چی مورږ دناکح څخه اوریدلی دی چی ده دمنکوحی دمړی مور سره زنا کړیده ملاصاحب ناکح را وغوښتی اوپوښتنه یی ځینی وکړه هغه په قسم انکاری دی چی مادمنکوحی دمور سره زنانه ده کړی داپر ما تهمت دی. ملاصاحب

---

[1] سورة النسآء: ۲۴. ظفير

[2] رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفير

دمدعیانو څخه قسم اخلی اوفتوٰی ورکوی چی دانکاح جائزنه ده اوچی کم په دی مجلس دنکاح کی شریك وو دهغوی نکاح ختمه ده. نودڅلورو کسانو په ورانديي دوباره نکاح وتړل سوه آیا مذکوره نکاح واقعی ناجائزوه څه حکم دی؟

جواب: مفتی به فتوٰی په دیانت ورکوی دی قاضی نه دی چی شاهدی واوری اوقسم ورکړی داکار دقاضی دی نوملاصاحب ته هم دافتوٰی نه وه ورکول پکار چی نکاح جائزنه سوه ځکه چی کله خاوند دزنا څخه منکردی نوعند الله دده ښځه پرده حرامه نه سوه، پر ملا صاحب باندی لازم ؤ چی کله خاوند دزنا اقرارنه کوی نوچی ده دحرمت حکم نه وای کړی، اوچی کله دابنځه پرده حرامه نه ده نوپر شرکاؤ دمجلس هم څه نسته اودتجدید دنکاح خوپه هیڅ حال کی هم ضرورت نه وو ځکه چی تجدید دنکاح په وجه دمرتد کیدو لازمیږی اودمجلس دشرکاؤ اودخاوند دارتداد حکم په هیڅ صورت هم په دې کی نسی کیدی. دا ددی ملا صاحب دلا علمی دلیل دی.

خوابنې وایی خو زوم دزنا څخه منکر دی څه حکم دی؟ سوال: (۲۲۳) مستر شفیع دخپلی خوابنې سره زنا کړیده خوشفیع دخلګو په مخکی دزنا څخه انکار کړیدی اودده خوابنې برابرهم داوایی چی زما سره زما زوم زنا کړیده اوشفیع هم دیو سړی په مخکی اقرار کړیدی نوپه داسی صورت کی دشفیع نکاح ختمه سوه اوکه نه؟

جواب: چی شفیع دزنا څخه منکردی اوشرعی شاهدی هم نسته نودده ښځه پرده حرامه نه ده ([1]).

لور پرپلار دبدنیت الزام لګوی اوپلار منکردی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۲۴) دفصاحت نومي شخص حقیقی لور بیان کړیدی چی زما پلار پرما په بدنیت لاس ومړی خوفصاحت په سختی سره انکار کوی نودفصاحت نکاح ماته سوه اوکه نه خلګو دی دخپلی قربانی څخه هم جلا کی اوچی کله ده قربانی وکړه اوغوښه یی تقسیم کړه نو چا ځینی وانه خیستل نو دوی ګنهګار سوه اوکه نه؟

جواب: دفصاحت نکاح په دی صورت کی قائمه ده ځکه چی فصاحت منکردی اودده تکذیب په شاهدانو عادلانو ثابت نه دی نوپه دی صورت کی حرمتِ مصاهرت نه ثابتیږی نو دفصاحت سره تعلق پرینبوول اودی په قربانی کی نه شریکول اُودقربانی غوښه دده څخه نه اخیستل اودا ناجائز ګڼل نا روا دی اوګناه ده. فقط

دښځی خیال دی چی زما خاوند زما دلور سره صحبت کړیدی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۲۵)

---

[1] وان ادعت الشهوة فی تقبیله ابنه وانکرها الرجل فهو مصدق لاهی (درمختار) فهو مصدق لانه ینکر ثبوت الحرمة والقول للمنکر (رد المحتار ج۳ ص ۳۸۹). ظفیر

هنده دخپل خاوندی په باره کی وایی چی په بدنیت ده زما دلورسره خبری وکړی اوغالبه داده چی صحبت به یی کړی وی ددی وجه څخه زه پرزید حرامه سوم. نوپه دی صورت کی شرعا څه حکم دی؟

جواب: صرف په خیال اوپه وهم سره حرمت مصاهرت نه ثابتیږی نوهنده پرخپل خاوند زید باندی صرف په دی خیال چی زید کیدی سی دهندی دلور سره صحبت کړی وی نه حرامیږی.

په شهوت سره یی لاس ولګوی په اول وار انزال ونه سو په دوهم وار وسو څه حکم دی؟ سوال: (۲۲۶\) زید هندی لره په شهوت لاس وروړی هنده بیده وه خوانزال ونه سو بیا یوه ګنته وروسته راغی اوبیایی لاس وروړی نو انزال وسو په دی دواړو صورتونو کی به حرمتِ مصاهرت ثابت وی اوکه نه؟

جواب: که بی جامی په بربنډ بدن یاپه نری جامه کی یی ورته په شهوت سره لاس وروړی وی نوحرمت دمصاهرت ثابتیږی لکه چی په اول صورت کی دی اوکه په مس بالشهوت سره انزال وسی نوپه دی سره حرمت نه ثابتیږی کذا فی الدر المختار ([1]). فقط

ددوو سړیو په شاهدی به حرمت ثابتیږی؟ سوال: (۲۲۷\) دوه عادل سړیان شاهدی ادا کوی چی مورِ زید دهندی سره په زنا لیدلی دی آیا ددی سره به حرمت وی اودمزنیی لور به پر زانی حرامه وی، موافق دعبارت دعالمګیری: ومنها الشهادة بغیر محدود والقضاء وما یطلع علیه الرجال منها شهادة رجلین اورجل وامرأتین الخ لقوله تعالی: واستشهدوا شهیدین من رجالکم، اوپه عبارت ددرمختار: ولغیرها من الحقوق رجلان او رجل وامرأتان، اویا موافق دآیت کریمه: والذین یرمون المحصنت الآیة، به دڅلورو سړیو شاهدی ضروری وی اونکاح دزید به دلور دمزنیی سره جائز وی اوکه نه؟

جواب: داصحیح ده چی دحرمت مصاهرت داثبات دپاره ددوو سړیانو یادیوه سړی او ددوو ښځو شاهدی مقبوله ده لکه چی اقرار باللمس والتقبیل عن شهوة ددوو سړیانو یا دیوه سړی اوددوو ښځو په شاهدی ثابتیږی، په درمختار کی دی: وتقبل الشهادة علی الاقرار باللمس والتقبیل عن شهوة ([2]) الخ اوهم دامنشاء دعبارت دعالمګیری اوددر مختار ده خوپه صورت مسئوله کی شاهدی دزنا ده اوښکاره ده چی داثابت نه دی بلکه په داسی صورت کی پرشاهدانو حدِ قذف جاری کیږی اوداشرعا کاذب شمارل کیږی نو

([1]) اذا لم ینزل فلو انزل مع مس اونظر فلاحرمة به یفتی (درمختار) فلاحرمة لانه بالانزال تبین انه غیر مفض الی الوطی هدایه (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ . ۳۳). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر

چې کله زنا ثابته نه سوه نوحرمت مصاهرت به هم ثابت نه وی ځکه چې داشاهدی په حرمت دمصاهرت نه ده بلکی پرزنا ده اودا ثابت نه دی اوشاهد درواغجن وګرځول سو قال الله تعالی: لو لا جاءوا باربعة شهدآء فاذا لم یاتوا بالشهداء فأُولٰئك عند الله هم الکاذبون (١) الایه.

<u>په غلطی سره پرلور راپریوتی څه حکم دی؟</u> سوال: (۲۲۸) زه نابینا یم یوشپه په خیال دصحبت دښځی سره بیداره سوم اوښځه می ددولسو کالو دلور سره پرته وه په غلطی می دلور پرتوغانې خلاص کړی اوخپل اندام می په شهوت ددی په اندام (شرمګاه) کي کښې ښووی ددی څخه وروسته پته ولګیده چې داخومی ښځه نه ده زه ددخول دذکر څخه مخکی جلاسوم ښځه می بیداره کړه اومخکنی شهوت څه قدر موجود وو صحبت می وکی انزال وسو په دی صورت کی حرمت به ثابت وی اوکه نه؟ که ثابت وی نو دامام شافعی صاحب په مذهب فتوٰی اوعمل کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وفی الخانیة ان النظر الی فرج ابنته بشهوة یوجب حرمة امرأته وکذا لوفزعت فدخلت فراش ابیها عریانة فانتشر لها ابوها تحرم علیه امها (٢) الخ اودانزال په روایت کی قید مع اللمس والنظر دی لکه چې په درمختار کی دی: فلو انزل مع مس اونظر فلا حرمة (٣) ددی روایتونو څخه ثابته ده چې په صورت واقعه کی حرمت ثابت دی اوحنفی لره په دی باره کی دامام شافعی په مذهب دعمل څه روایت او فتوٰی منقوله نه ده.

<u>دکمال الدین دمور سره چې چا زنا کړیده دهغه دلور سره دکملل الدین واده جائزدی اوکه نه؟</u> سوال: (۲۲۹) خلاصه داده چې که زنا کول دفقیر دکمال الدین دمور سره ثابت سی نودکمال الدین نکاح دفقیر دلور سره به صحیح وی اوکه نه؟ اوکه فقیر دا ووایی چې کمال الدین زما دنطفی څخه دی نودا شرعا معتبره ده اوکه نه؟

جواب: چې په شرعی شاهدی یعنی دڅلورو عادلانو په شاهدی سره زنا دفقیر دکمال الدین دمور سره ثابته هم سی بیاهم موافق دتصریح دبحر وغیره دکمال الدین نکاح دفقیر دلور سره شرعا صحیح ده ځکه چې دزانی فروع دمزنیی پرفروع حرام نه دی کما فی الشامی عن البحر ویحل لاصول الزانی وفروعه اصول المزنی بها وفروعها (٤) الخ

---

(١) سورة النور: ۲. ظفیر

(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفیر

(٣) ایضا ص۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر

(٤) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر

شامی ص ۲۷۹ جلد ۲.

او دفقیر داویل چی کمال الدین زما دنطفه څخه دی داشرعا معتبرنه دی لقوله ﷺ الولد للفراش وللعاهر الحجر [۱] نودفقیر ددی اقرار هیڅ اعتبار نسته اودفقیر ددی قول دوجه به پرکمال الدین دفقیر لور حرامه نه وی ځکه داقول دفقیر چی معارض دنص دی خطا او باطل دی.

دشپی په غلطی سره پرلور یاپه خوابنی لاس ولـګیږی اوشهوت وی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۳۰۱) دشپی دخپلي ښځي درا ولاړولو دپاره ولاړیدم خوپه غلطی سره می پرخپله لور یاپر خوابنی لاس ولګیدی اودښځی په خیال می دځوانی په جوش پردی لاس ومږی نو داسی سړی لره خپله ښځه جلا کول پکاردی، اودا پرده باندی دهمیشه دپاره حرامه سوه، ددی متعلق څو سوالونه دی. (۱) انجلی بالغه وی اوکه نابالغه. (۲) په دی صورت کی غلطی هم کافی ده اوکه ارادةً په انجلی لاس وهل ضروری دی؟

جواب: (۱) داحکم دنهو کالو یا ددی څخه دزیات عمر والا په باره کی دی. (۲) په دی صورت کی غلطی هم کافی ده [۲].

دموطوئـة لـور سـاتل څنګـه دی اوددی داولاد حکـم څـه دی؟ سـوال: (۲۳۱۱) زیـد دخپلـی خوابنی هندی سره زنا وکړه په مسئله معلومیدو سره زید خپله ښځه پریښووله اوددی کار څخه یی توبه وکښله بیا دزید ښځی زور وکی چی زه به دپنځو سوو روپو دمهر دعوٰی کومه زید په سبب دبیری دمهر څخه توبه ماته کړه اوښځه یی وساتله ددی څخه اولاد پیداسو دداسی سړی دپاره څه حکم دی اوامام مقررول یې څنګه دی؟ اونکاح دزید باقی ده اوکه نه؟ اومهر دزید په ذمه واجب دی اوکه نه؟

جواب: چی کله زید خپله ښځه پرې ښووله نودده نکاح باطله سوه اوزید لره داسی کول ضروری وو یعنی خپله ښځه پریښوول باندی لازم وو بیا دزید داښځه ساتل اوددی سره صحبت کول حرام دی اوددی څخه وروسته چی کم اولاد پیداسو دهغوی نسب ثابت نه دی، سابقه مهر باندی لازم دی یعنی که داښځه موطوئه دزید وی نومهر مثل لازم دی. ویجب مهر المثل فی نکاح فاسد [۳] الخ (درمختار) غرض داچی زید په حالت مذکوره

---

(۱) مشکوٰۃ شریف باب اللعان ص ۲۸۷ . ظفیر

(۲) فلو أیقظ زوجته أو أیقظته هي لجماعها فمست یده بنتها المشتهاه أو یدها ابنه حرمت الأم أبدا فتح قبل أم امرأته في أي موضع کان علی الصحیح حرمت علیه امرأته الخ وبنت سنها دون تسع لیست بمشتهاة به یفتی (الدر المختار علی هامش رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۸ - ۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۵). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتارباب المهرمطلب فی النکاح الفاسد ص۴۸۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۳۱. ظ

کی فاسق دی دده امامت مکروه دی.

دمدخولې ښځې دلور سره نکاح حرامه ده: **سوال:** (۲۳۲) وربائبکم اللاتی فی حجورکم من نساءکم اللاتی دخلتم بهن (۱) یعنی دښځې هغه لور چې دمخکنی خاوند څخه ده اوپه غیره کی ده حرامه ده ددی دمور په ژوند اومرګ کی، وهل تسمی الربیبة وان لم تکن فی حجره، اوڅه نوم دی دهغه ربیبه چې هغه دده په غیره کی نه وی یعنی چې دغیرې دماشوم څخه غټه وی هغه هم حرامه ده امام بخاری صاحب دصحیح بخاری په ترجمه فیض الباری پاره ۲۱ کی ویلی دی چې حضرت عمر فاروق ﷺ اوحضرت علی ﷺ په خپله زمانه کی دخلافت دهغه انجلۍ سره دنکاح اجازه ورکړیده چې کمه په غیره کی نه وه یعنی مخکنی وی ځینی. دا ابن منذر وغیره نقل کړیدی اوپه اخر کی دا لیکلی دی که اجماع حادث په دی مسئله کی نه وای نو دا اخیستل ډیر اولی وو ځکه چې دحدیث په ډیرو طریقو اوقرآن مجید کی قید دحجر سته اومخالفینو صرف داحدیث حجت نیولی دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل: ای زما بیبیانو! ماته دخپلو خوندو اودلوڼو سره دنکاح کولو مه وایاست. دمخالف حدیث څخه صفا ښکاره ده چې خوږ پیغمبر ﷺ خپلي بيبياني ددوی په ژوندکی دخوندو اودلوڼو دنکاح کولو دویلو څخه منع کړيدي، چې لکه څنګه چي دښځې دخور سره دهغه په ژوند کی نکاح حرامه ده داسی دلورسره هم کنې دژوند څخه وروسته یوه ښځه څنګه ویل ورته کولی سی، په آخرکی داهم درخواست دی چې آیا حضرت علی اوحضرت عمر فاروق ﷺ څخه مخالفین زیات معتبر اوخبردار دی.

جواب: دمدخوله ښځې هغه لور چې داول خاوندڅخه ده مطلقاحرامه وی که ښځه موجوده وی اوکه نه او دانجلۍ په غیره اوپه پرورش کی وی اوکه نه، لکه چې په قرآن کریم کی یې داپه محرماتو ابدیه ؤ کی شمارلی ده. قال الله تعالٰی: واللاتی فی حجورکم من نسائکم اللاتی دخلتم بهن، الایه (۲) اوقید فی حجورکم په اعتبار دغالب اوداکثر دی لکه چې دجمهورو اصحابو اوتابعینو اودائمة اربعهؤ هم دامذهب دی اودداود ظاهري څخه علاوه دهیڅا څخه هم ددی خلاف په دې باره کی نه دی منقول اوپه اصحابوکی چې په دی باره کی کم اختلاف وو هغه داجماع څخه وروسته مرتفع سو اوپه جلالین شریف کی دی: فی حجورکم تربونها صفة موافقة للغالب مفهوم لها (۳) الخ اوپه مدارك کی دی: قال داود اذا لم تکن فی حجره لاتحرم قلنا ذکر الحجر علی غلبة الحال دون الشرط الخ. اوپه درمختار کی دی: وبنت زوجة الموطوئة قال فی رد المحتار ای سوآء کانت فی

(۱) و(۲) سورة النساء: ۲۴. ظفير
(۳) جلالين ص ۷۳. ظفير

حجره ای کفنه ونفقته اولا ذکر الحجر فی الآیة خرج مخرج العادة اوذکر للتشنیع علیهم (۱) الخ. اوامام بخاری هم په دی مسئله کی دجمهورو سره دی هغه هم دربیبه نکاح مطلقاً حرام وایی که په غیره کی وی اوکه نه وی لکه چی پوره عبارت دبخاری شریف دترجمة الباب دادی: وهل تسمی الربیبة وان لم تکن فی حجره ودفع النبی ﷺ ربیبة له الی من یکفلها (۲) الخ. اوددی څخه وروسته حدیث: لاتعرضن علیّ بناتکن ولا اخواتکن الخ راوړی، په دې روایت کی په: ودفع النبی ﷺ الخ سره هم امام بخاری دلیل نیولی دی چی سره ددی چی دبل په پالنه کی وه بیاهم دی انجلی ته یې ربیبه وویل اوپه محرماتو کی وشمارل سوه اوچی کله دقرن اول داختلاف څخه وروسته چی اجماع په حرمت وسوه نودا اختلاف معتبرنه پاته کیږی اوواضحه دی وی چی دحضرت علی رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه خلاف په دی باره کی امام بخاری دلیل نیولی دی چی سره ددی چی دبل په پالنه کی وه بیاهم دی انجلی ته یې ربیبه وویل اوپه محرماتوکی شمار سوه اوچی کله دقرن اول داختلاف څخه وروسته چی اجماع پرحرمت وسوه نودا اختلاف معتبر نه پاته کیږی او واضحه دی وی چی دحضرت علی رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه خلاف په دی باره کی امام بخاری نه دی نقل کړی داهم دابن حجر قول دی چی که نه وای حادثه اجماع په دی مسئله کی الخ دې ته دامام بخاری قول ویل غلط دی غرض داچی امام بخاری اوائمه اربعه او جمهور اهل سنت والجماعت په دی مسئله کی متفق دی چی دمدخوله ښځی لور همیشه حرامه ده، که په غیره کی وی اوکه نه اوحضور ﷺ دې ته مطلقا حرام ویلی دی (۳).

<u>دځلورو کالو انجلۍ لره په ګوتی وروړلو سره حرمت مصاهرت نه ثابتیږی</u>: سوال: (۱۲۳۳)

دمسئلو څخه بی خبره سړی په خپلي نابالغی لور باندی چی دهغې عمر څلور کاله به وی دځوانی په خواهش لاس وروړی اوپرتوغانې یې ورخلاص کړي خودخلاصولو سره سمدستی یې بیرته وتړی نوآیا ښځه ورباندی حرامه سوه اوکه نه؟

جواب: داحکم دحرمت دنهو کالو یادزیات عمر انجلۍ ته په لاس لګولو سره ثابتیږی او قصداً اوخطا اوپه هیروالی په دې کی برابر دلائل دحرمت په کتابونو دفقه کی مبسوط دی په رد المحتار کی دی: قال فی الفتح وبقولنا قال فی روایة احمد وهو قول عمر وابن مسعود وابن عباس فی الاصح وعمران بن الحصین وجابر وابی وعائشة رضی الله عنهم ، وجمهور التابعین رحمهم الله کالبصري والشعبي والنخعي والأوزاعي وطاؤس ومجاهد وعطاء وابن

---

(۱) رد المحتار کتاب النکاح فصل فی المحرمات ص۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۰. ظفیر

(۲) بخاری شریف.

(۳) مدارك التزیل ص۲۲۲ ج۱. ظفیر

المسیب وسلیمان بن یسار وحماد والثوري وابن راهویه وتمامه مع بسط الدلیل فیه الخ وفیه ایضا: لأن المس والنظر سبب داع إلى الوطء فیقام مقامه في موضع الاحتیاط هدایة واستدل لذلك في الفتح بالأحادیث والآثار عن الصحابة والتابعین شامی (۱) ص ۲۸۰ ج۲، دځلورو پنځو کالو عمر انجلی ته په شهوت سره لاس په وروړلو باندی حرمت نه ثابتیږی نوپه صورت مسئوله کی ښځه به حرامه نه وی اوبی خبری عذر نه دی خودلور دکوچنی والی دوجه څخه حکم دحرمت ونه سو (۲).

دخوابنې سره یی ددرواغو دزنا اقرار وکی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۳۴) خلاصه دسوال دا ده چې یوسړی دخپلی خوابنې سره په یومکان کی اوسیدی وروسته ددی څخه دده دخوابنې نس ښکاره سو نوجرګی ددی سړی اقرار واخیستی اویو مولوی صاحب ته یې خط ولیکی اودوی دابنځه پرده حرامه وګرځوله ددې څخه وروسته دې سړی په قسم سره وویل چې ما دا اقرار دبیري څخه کړیدی نوپه دې صورت کي ددې سړي ښځه پرده حرامه اوکه حلاله؟

جواب: په درمختار کی دی: قیل له ما فعلت بام امرأتك فقال جامعتها تثبت الحرمة ولا یصدق انه کذب ولو هازلاً (۳) الخ. اوپه شامی کی دی: قوله ولایصدق انه کذب ای عند القاضی اما بینه وبین الله تعالی ان کان کاذبا فیما اقر لم تثبت الحرمة (۴) الخ.

ددی روایت څخه معلومه سوه چې په صورت مسئوله کی که دی سړی دخپلی خوابنې سره دزنا کولو ددرواغو اقرار کړیدی نوقاضی اومفتی به ددی تصدیق نه کوی بلکه دحرمت فتویٰ به ورکوی اوپه ښځه اوخاوند کی به جلاوالی وکړی خوکه ددی سړی په علم اویقین کی داخبره کلکه وی چې مادخپلی خوابنې سره زنا نه ده کړی اوڅه فعل دموجب دحرمت دمصاهرت دده څخه صادر نه وی نودده په حق کی په دنیا کی دده ښځه حلاله ده.

ښځه قادیانی سوه او دقادیانی سره یی واده وکی اوس ددی دلور سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۲۳۵) دیوسړی ښځي دقادیانی سره نکاح وکړه ددی څخه لور پیداسوله ددی انجلی سره ددی دمور په مخکی خاوند نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: نه یې سی کولی. لقوله تعالیٰ: وربائبکم اللاتی فی حجورکم من نساء کم اللاتی

---

(۱) وګوری ردالمحتارفصل فی المحرمات ص۳۸۴ – ۳۸۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص۳۲ تحت قوله: اراد بالزنا الوطؤ الحرام. ظ

(۲) اقول التعلیل بعدم الاشتهاء یفید ان من لایشتهی لاتثبت الحرمة بجماعه الخ واقله للانثی تسع وللذکر اثنا عشر (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۵). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر

(۴) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر

دخلتم بهن (۱) قال فی الدرالمختار وبنت زوجته الموطوئة وام زوجة جداتها مطلقًا الخ (۲) . فقط

ښځه چي ووايي خسر راسره زنا وکړه اوخاوند انکار کوي نوحرمت به ثابت وي اوکه نه؟

سوال: (۲۳۶\) يوی ښځی دعوٰی کړيده چی زماخسر زما سره زنا کړيده ددی وجه څخه زه پرخاوند حرامه يم خاوند وايي چی ښځه بالکل درواغجنه ده زما پلار متقی اوپرهيزګار دی هغه داسی بدکارنه سی کولی اوخسر هم بالکل منکر دی اودښځي سره هم څه شاهد نسته آيا داښځه په خپل خاوند باندی په دی صورت کی حرامه ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی به حرمت مصاهرت ثابت نه وی اومذکوره ښځه دخاوند په نکاح کی ده اوداښځه پرخپل خاوند حرامه نه سوه، دښځی قول شرعا دروغ دی لقوله ﷺ البينة على المدعی واليمين على من انکر (۳) . فقط

دزوی دښځی لاس يي ونيوی خو دشهوت علم نه وو نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۲۳۷\) يوسړی دبدفعلی دپاره دخپلی ښځی لاس نيول غوښتل په خطا يې دزوی دښځی لاس ونيوی مرور وويل زه يم ده دا واوريدل نو وشرميدی اوپری يي ښوول خودلاس دنيولو په وخت شهوت وو اوکه نه؟ دامعلومه نه ده نوحرمت ثابت دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی‌کله دشهوت کيدل يقينی نه دی حرمت مصاهرت نه ثابتيږی اودده دزوی ښځه په خپل خاوند حرامه نه ده (۴). فقط

دښځی سره دخاوند نيکه (دمور پلار) زنا وکړی څه حکم دی؟ **سوال:** (۲۳۸\) ديوسړی ښځی سره دده نيکه زنا وکړه اوشاهدی هم سويده نوحرمت مصاهرت ثابت دی اوکه نه اونکاح فسخ سويده اوکه نه؟

جواب: دنيکه مزنيه پرده حرامه سوه اوددې جلا کول په کاردی، په درمختار کی دی: چی بغير دمتارکت يا دتفريق دقاضی څخه به نکاح فسخ نه وی. وبحرمة المصاهرة لا يرتفع النكاح الخ الابعد المتاركة وفی الشامی، الابعد تفريق القاضی اوبعد المتاركة (۵) ؒ قال فی البحر ارادبحرمة المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة على اصـول الزانی

---

(۱) سورة النساء : ۲۴. ظفير

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتارفصل فی المحرمات ص ۳۷۲ – ۳۸۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفير

(۳) مشکوٰة شريف باب الاقضية والشهادات ص۳۲۲. ظفير

(۴) قال في وإذا قبلها أولمسها أو نظر إلى فرجها ثم قال لم يكن عن شهوة ذكر الصدر الشهيد أنه في القبلة يفتى بالحرمة ، ما لم يتبين أنه بلا شهوة وفي المس والنظر لا إلا إن تبين أنه بشهوة ؛ لأن الأصل في التقبيل الشهوة بخلاف المس والنظر (رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۸ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۳۵). ظفير

(۵) الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفير

وفروعه (۱) الخ. فقط

دبچندري سره يې دزنا انکار وکې بيايې په دباو اچولو سره اقرار او بيايې انکار وکې څه حکم دی؟ **سوال:** (۱۲۳۹) عمر واده وکی اودښځی سره يې قربت هم وکی ددی سره يې يوه لور بالغه هم راغله لږ ورځی وروسته چی دعمر يو نابالغ زوی چي دمخکني ښځی څخه دی پرخپل پلار عمر باندی دخپلی بچندری سره دزنا الزام ولګوی خلګو دعمر او دربيبی څخه پوښتنه وکړه دواړو دزنا څخه انکار وکی وروسته ددی څخه يوتعليم يافته فقير راغی ده جبراً دعمر څخه دزنا اقرار واخيستی اوپه ده يې توبه وکښله بيا عمر دزنا څخه منکر سو اوهلك نابالغ هم منکردی نوپه دی صورت کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: چی ده دبچندری سره دزنا اقرار وکی نودده ښځه پرده حرامه سوه خوکه ده دا اقرار په دباو کی په درواغو کړی وي اوپه حقيقت کی ده دخپلی ربيبه سره زنا نه وه کړی نو که څه هم عند القاضی دده قول به معتبر نه وی خوعندالله به دا ښځه دده دپاره حلاله وی، په درمختار کی دی: وفی الخلاصة قيل ما فعلت بام امراتك فقال جامعتها تثبت الحرمة ولايصدق انه كذب الخ قوله ولايصدق انه كذب ای عند القاضی اما بينه وبين الله تعالٰی ان كان كاذبا فيما اقر لم تثبت الحرمة الخ (۲) شامی. فقط

خسر زنا کړيده خونه شاهد سته اونه دی اقرار کوی، څه حکم دی؟ **سوال:** (۱۲۴۰) هنده حلفيه بيان کوی چی يوه ورځ چی کله دا اوددې خسر زيد يوازی وه نوخسر وويل راسه پرپښو زور راوکړه نوهنده دخپل خسر چاپی شروع کړه په دی دوران کی دخسر نيت بد سو اودشهوت څخه مغلوب سو اوددی مچول يې شروع کړل اوچی داځوانه وه نوپر دی هم شهوت غالب سو نوزيد ددی سره زنا وکړه، ددی څخه وروسته به دواړو بد فعل کوی اوس داحامله ده يعنی هندی ته حمل سويدی چی دزيددی اوپه دی موده کی ددی خاوند عمر دې ته نه دی راغلی سوی دهندی دخاوند عمر حلفيه بيان دی چی ماته زما مور دا بيان کړيدی چی ستا پلار زيد دهندی سره بدفعل کوی آخر عمر يوه ورځ خپل پلار زيد په دی وليدی چی دده دښځي هنده مړوند يې نيولی وو اونور څه يې ونه کړل اوما خپل پلار څو واره ليدلی دی چی زماپه ښځی يې چاپی کوله دعمر دورور دبکر بيان دی چی ما خپل پلار څو واره ليدلی دی چی په هنده يې چاپی کوله دزيد بيان دی چی ماپه هنده چاپی ضرور کړيده خونوری ټولی خبری خطا اودرواغ دی ددی څخه علاوه بل دسترګو ليدلی شاهد نسته، نوپه دی صورت کی حرمت دمصاهرت ثابت دی اوکه نه؟

---

(۱) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفير

(۲) وګوری رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲. ظفير

جواب: په دی صورت کی دشرعی قاعدی مطابق حرمت دمصاهرت په حق دعمر ثابت نه دی ځکه چی څه شاهدی دمس بالشهوت یا دتقبیل بالشهوت یادزنا دا نسته او دعمر خپله مرور ترمرووند نیولي لیدل یا په چاپي کولو باندي لیدل دمس بالشهوة مستلزم نه دی اونه دا په ثابتیږی، په درمختار کی دی: وفی المس لاتحرم ما لم تعلم الشهوة لان الاصل فی التقبیل الشهوة بخلاف المس [۱] الخ وفی الشامی ولم یذکر المس وقدمنا عن الذخیرة ان الاصل فی عدم الشهوة مثل النظر فیصدق اذا انکر الشهوة [۲] الخ. او دښځی بیان دخاوند په حق کي مفید دحرمت نه دی ځکه چی اقرار حجت قاصره دی یوازي په اقرار به پربل حرمت ثابت نه وی. په درمختار کی دی: وان ادعت الشهوة فی تقبیله اوتقبیلها ابنه وانکرها الرجل فهو مصدق [۳] الخ درمختار، ای ادعت الزوجة انه قبل احد اصولها اوفروعها بشهوة اوان احد اصولها اوفروعها قبله بشهوة قوله فهو مصدق لانه ینکر ثبوت الحرمة والقول للمنکر [۴] الخ شامی وفیه بعد اسطر: وکذا اذا اقر بجماع امها قبل التزوج لایصدق فی حقها فیجب کمال المسمیٰ بعد الدخول ونصفه لوقبله [۵] الخ، ددي عبارتونو څخه واضحه ده چی دښځی قول دخاوند په حق کی او دخاوند قول دښځی په حق کی مسموع نه وی. فقط

خواښی چی زوم مچ کړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۴۱) یوی ښځی خپل زوم مچ کی نو ددی سړی ښځه پرده حرامه سوه اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: قبل ام امرأته الخ حرمت علیه امرأته الی ان قال لان الاصل فی التقبیل الشهوة [۶] الخ نومعلومه سوه چی په صورت مذکوره کی دده ښځه پرده همیشه حرامه سوه.

دخواښی سینه یی ونیوله ښځه حرامه سوه اوکه نه؟ سوال: (۲۴۲) یوسړی په تیاره کی دخواښی سینه په شهوت سره ونیوله یعنی دښځی په ګمان خوچی کله ده ته معلومه سوه نوډیر شرمنده سو نوپه داسی سړی دده ښځه حرامه سوه اوکه نه؟

جواب: چی پرسینه سربیره څه جامه نه وی یاوي خونړی جامه وی نوپه شهوت سره دي ته

---

[۱] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۸ ج۲. ظفیر
[۲] رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۹۰ ج۲. ظفیر
[۳] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ۳۸۹ ج۲. ظفیر
[۴] رد المحتار باب ایضا ص ۳۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفیر
[۵] ایضًا ص ۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر
[۶] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۸ ج۲، ط.س. ج۳ ص۳۲. ظفیر

په لاس لګولو باندی دده ښځه پرده حرامه سوه [۱] . فقط

دزوی اقرار دی چی زما پلار زما دښځی سره زنا کړیده بیایی انکار وکی نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۴۳\۱) مخکی زید ویله چی زما پلار بکر زما دښځی زینب سره زنا کړیده یعنی په خپلو سترګو یی لیدلی ده بیا زید په قسم دابیان وکی چی بکر زما دښځی سره زنانه ده کړی اواوس ښځه وایی چی زماسره بکر زنا کړیده اوزید چی کله مخکی اقرار کړی وو چی بکر زما دښځی سره زنا کړیده دغه وخت ښځه دزنا څخه منکره وه اوبکر دزید پلار منکر دزنا دی، په دی صورت کی حرمت مصاهرت ثابت سو اوکه نه؟ یعنی زینب پر زید حرامه سوه اوکه نه؟

سوال: (۲\۱) اوزید په دوهم وار سره په قسم وایی چی بکر زما دښځی سره زنا کړی اوپه یوه صورت کی زینب هم منکر دزناده نومفتی دیانةً دافتوٰی ورکولی سی چی که فی الواقع زید دبکر دزینب سره دزناپه باره کی غلط اقرار کړی وو نوعند الله زینب په زید حرامه نه سوه، یا

سوال: (۳\۱) اوچی قاضی په دی وطن کی نه دی اوزید اوزینب دواړه دخپل اقرار څخه رجوع وکړی نوپه صورت دحرمت مصاهرت ثابتیدو کی زینب بی له زید دطلاق ورکولو څخه بل ځای نکاح کولی سی اوکه نه؟

سوال: (۴\۱) چی کله دبکر دزینب سره په زنا کولو څوك شاهد نسته اودزید اودزینب بیا بیان مختلف دی نوپر بکر څه شرعی حد لګیدی سی اوکه نه؟

سوال: (۵\۱) آیا په حدودو کی شرعًا حکم کیدی سی؟

جواب: وفی الخلاصة قیل له ما فعلت بام امراتك فقال جامعتها تثبت الحرمة ای قضاءً ولا یصدق انه کذب ولو هازلاً (درمختار) قوله لایصدق انه کذب ای عند القاضی واما بینه وبین الله تعالی ان کان کاذبا فیما اقر لم تثبت الحرمة [۲] الخ شامی وفی الدرالمختار ایضا تزوج بکرًا فوجدها ثیبة وقالت ابوك فضنی ان صدقها بانت بلا مهر والا لا. [۳] فقط

ددی وجه څخه په دی صورت کی پر زید دده داقرار موافق دده ښځه پرده حرامه سوه او

---

[۱] وحرم ایضاً اصل ممسوسة بشهوة ولو بشعر علی الرأس بحائل لا یمنع الحرارة الخ وفروعهن مطلقًا والعبرة للشهوة عند المس (درمختار) قوله: بشهوة ای ولو من احدهما قوله بحائل ای ولو بحائل الخ فلو کان مانعاً لا تثبت الحرمة (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲). ظفیر

[۲] وګوری ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر

[۳] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر

حرمت مصاهرت ثابت سو اودوهم قول دده معتبرنه دی خوکه فی الواقع ده درواغ ویلی وه اودده په علم کی زنا ثابته نه ده نومابینه وبین الله دده ښځه پرده حرامه نه ده خوکه ښځی ته دده دپخوانی اقرار علم وسو نودی لره جائز نه دی چی ده ته دوطی اجازه ورکړی. لان المرأة کالقاضی. درمختار وغیره. ([1])

(۲) مفتی به داسی فتوٰی ورکوی چی څنګه ولیکل سوه یعنی دابه وایی چی موافق دزید داقرار دده ښځه پرده حرامه سوه خوکه په واقع کی ده ته معلومه وی چی ده دروغ ویلی دی اوده غلط اقرار کړیدی نو مابینه وبین الله دده ښځه پرده حرامه نه سوه اودا هلته متصوره ده چی کله دده ښځی ته دده دپخوانی اقرار خبرنه وی.

(۳) رجوع عن الاقرار معتبره نه ده: والمرأ یؤخذ باقراره قاعده مسلمه ده خوپه درمختار وغیره کی داتصریح سته چی: بحرمة المصاهرة لایرتفع النکاح حتٰی لایحل لها التزوج الا بعد المتارکة وانقضاء العدة، ([2]) اوپه شامی کی دی: وعبارة الحاوی الا بعد تفریق القاضی اوبعد المتارکة ([3]) الخ. ددی وجه څخه قبل تفریق القاضی یا قبل المتارکة او انقضاء عده نکاح ثانی جائز نه ده.

(۴) شرعی حد به پربکر قائم نه وی څکه چی په دی صورت کی نه دزانی اقرار سته اونه شهود اربعه موجود دی: وقد قال الله تعالی واذلم یأتوا بالشهداء فاولئك عندالله هم الکاذبون ([4]).

(۵) په حدودو کی تحکیم صحیح نه دی کمافی باب التحکیم من الدرالمختار: صح لو فی غیر حد وقود ([5]) الخ شامی ص ۳۴۸ ج۴. فقط

په حرمت دمصاهرت کی دکافر حاکم تفریق صحیح دی اوکه نه؟ سوال: (۲۴۴۱) دزید دهندی سره نکاح سویده دنکاح څخه وروسته زید دخپلی خوابنی سره زنا وکړه نوپه دی صورت کی دزید ښځه پرده حرامه سوه اوکه نه؟ که حرامه وی نوتفریق داسلامی قاضی

([1]) رد المحتار باب الصریح ص۵۹۴ ج۲، ط.س. ج۳ ص۲۵۱، والمرأة کالقاضي إذا سمعته أو أخبرها عدل لا یحل له تمکینه والفتوی علی أنه لیس لها قتله ولا تقتل نفسها بل تفدي نفسها بمال أو مهر کما أنه لیس له قتلها إذا حرمت علیه وکلما هرب ردته بالسحر. وفي البزازیة عن الأوزجندي أنها ترفع الأمر للقاضي فإن حلف ولا بینة لها فالإثم علیه الخ قلت: أي إذا لم تقدر علی الفداء أو الهرب ولا علی منعه عنها فلا ینافي ما قبله (رد المحتار ص۵۹۴ ج۲). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۲. ظفیر

([3]) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۹ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۳۷. ظفیر

([4]) سورة النور : ۲. ظفیر

([5]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التحکیم ص۴۸۳ ج۴، ط.س. ج۳ ص۴۲۹. ظفیر

ضروري دی او که دانګریزی عدالت تفریق هم صحیح دی او دائمه اربعهؤ په مذهب کی دکم مذهب ترجیح ده او ولی ده؟

جواب: که زنا ثابته ده مثلا زید دزنا اقرار کوی یاپه شرعی شاهدی سره ثابته ده نو دزید ښځه پرزید حرامه سوه، نوپر زید لازم دی چی خپله منکوحه جلا کړی یاقاضی یعنی شرعی حاکم تفریق وکړی دکافرحاکم تفریق معتبر نه دی اوپه زناسره په حرمت مصاهرت ثابتیدو کی دامام شافعیؒ خلاف دی خوامام ابوحنیفهؒ فرمایی چی په زناسره هم حرمت ثابتیږی په فتح القدیر کی فرمایی چی همدا مذهب دحضرت عمرؓ، عبدالله بن مسعودؓ اودعبدالله بن عباس ؓ وغیره دی، اودجمهورو تابعینو هم دامذهب دی، په شامی کی دی: قال فی الفتح وبقولنا قال مالك فی روایة واحمد وهو قول عمر وابن مسعود وابن عباس فی الاصح الخ وجمهور التابعین [1] الخ .

خوابنی زوم مچ کی اوزوم خلاص سو نوحرمت ثابت نه سو: **سوال**: (۲۴۵) دزید خوابنی دزید ښځه مچه واخیسته اوغاړه یی ورسره یوځای کړه اوزید په سفر روان وو نودزید دغه وخت انزال وسو او وایی چی زما دشهوت خیال بالکل نه وو بی اختیاره انزال وسو نو اوس دزید ښځه پرده حرامه سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید ښځه پرزید حرامه نه سوه په درمختار کی دی: فلو انزل مع مس اونظر فلا حرمة وبه یفتی [2] الخ.

دزید دمیره مور سره دزنا اقرار دحرمت دپاره کافي نه دی: **سوال**: (۲۴۶) پرزید دخپل پلار دمنکوحي یعنی میریزي مورسره دزنا شبهه وسوه په جومات کی څوکسانو دزید څخه پوښتنه وکړه اودباو یی باندی واچوی بلکه یوسړی زید پرمخ په چاپیړه هم ووهی خو زید اقرار ونه کی بیا مولوی صاحب چی متقی اوخدا پرست دی زید په کمره کی یواځی کی اوپه ډیره نرمه یی ځینی پوښتنه وکړه چی واقعی ستا دخپلی میریزي مور سره ناجائز تعلق دی؟ نوزید اقرار وکی، مولوی صاحب څوسړی را وبلل اودزید اقرار یی ورته وکی بیاسبا زید خپل همځولی هلك ته بیان وکی چی مامابنام کم اقرار دزنا کړیدی نودامی دبیری څخه کړیدی په اصل کی زما هیڅ ګناه نسته زید نو عُمره هلك دی دشپاړسو کالو دده مور هم ځوانه ده اوصاحب اولاد ده هغه زید ته خپل زوی وایی او زید دې ته مورواییی زید واده کړیدی اوښځه دده په کورکی ده ټول په یوکورکی اوسیږی دزید ښځه هم چی کله دخپلی میریزي خوابنی سره جنګ کوی نودزید تهمت ورته کوی

[1] رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۴ و۳۸۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر

[2] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۸۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص۳۳. ظفیر

دسترګو لیدلی شاهد دزنا دمچولو وغیره متعلق نسته دزید دغه اقرار چې د مولوی صاحب په مخکې یې کړیدی اوڅوسړو اوریدلی دی ددی جرم دکولو ثبوت دی. نوسوال دادی چې دزید میره مور دده پرپلار حرامه سوه اوکه نه؟ اوپه دی قدر ثبوت اهل اسلام دزید اودده پلار سره خوراك ڇنباك پرینبوولی سی اوکه نه؟

جواب: دزید میره مور اودده پلار چې کله دزنا یا دمس بالشهوة اقرار نه کوی اوشرعی شاهدی هم نسته نو صرف دزید په اقرار سره دزید میره مور دزید پرپلار حرامه نه ده ښکاره ده چې دزید اقرار دزید دمور وغیره په حق کی نه معتبر کیږی اودا امر مسلم عند الفقهآء دی چې دیوه سړی اقرار دبل په حق کی نه دی معتبر، نودزید اودده دپلار سره خوراك ڇنباك نه کول صحیح نه دی اودزید اقرار سره دتکذیبه دمیره مور اودپلار صرف دروغ اوتور دی ددی دمطالبه حق دده میره مورته دی چې پرهغه تهمت لګیدلی دی بل چاته نه دی نوچې کله ددی مطالبه نسته نودنورو هم څه حق دمطالبه نسته. وکذا اذا اقر بجماع امها قبل التزوج لایصدق لا هی، درمختار. وقال فی الشامی لانه ینکر ثبوت الحرمة والقول للمنکر، شامی ص ۳۸۹ ج۲. فقط والله اعلم

دحرمت دمصاهرت دپاره څو شاهدان ضروری دی؟ سوال: (۲۴۷) دحرمت مصاهرت دپاره څو شاهدان ضروری دی که څوسړیانو یوسړی یوازي په جلا جلا وختونو کی دخپلی خواښی سره په بدفعل کولو لیدلی دی نوپه دی سره حرمت دمصاهرت ثابتیږی اوکه نه آیا دپاره دثبوت دزنا دی لره هم په شان دڅلورو شاهدانو په یووار دلیدو ضرورت دی؟

جواب: ونصابها للزنا أربعة رجال لیس منهم ابن زوجها ولو علق عتقه بالزنا وقع برجلین ولاحد الخ ولغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا أو غیره کنکاح وطلاق ووکالة الخ رجلان او رجل وامرأتان الخ درمختار (۱) نوپه دی صورت کی به حرمت دمصاهرت ثابت وی ځکه چې حرمت دمصاهرت ددوو سړیو یا دیوه سړی یا دیوی ښځی په شاهدانو سره ثابتیږی که څه هم دزنا ثبوت اوحد جاری کیدل په دی سره نه کیږی.

دلور سره په زنا کولو سره ښځه حرامیږی: سوال: (۲۴۸) یوسړی زید دخپل سکه لور سره زنا وکړه نواوس ددی انجلی مور دزید په نکاح کی به وی اوکه نه؟

جواب: ددی انجلی مور پردی زانی همیشه حرامه سوه ددی جلا کول لازم دی او هیڅکله هم ددی سره نکاح نه سی کولی. وحرم ایضا بالصهریة اصل مزنیة الخ درمختار (۲) وفی الشامی عن البحر وحرمة اصولها وفروعها علی الزانی الخ (۱). فقط

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادة ص ۵۱۴ ج۴، ط.س. ج۳ ص ۴۲۴. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۳۸۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۲ باب المحرمات.

چي کله زوم دخواښي سره دزنا اقرار وکي نوښځه به حرامه سي: سوال: (۲۴۹) یو سړی په جبر اوپه زور سره ددی اقرار وکی چی ما دخپلی خواښی سره زنا کړیده حال دادی چی دده خواښی اقرار کوی چی داحمل زما داخښی دی دارکم حرمت مصاهرت دیودوو ښځو په شاهدی سره ثابتیدی سی اوکه نه؟

جواب: قيل له مافعلت بام امرأتك فقال جامعتها تثبت الحرمة ولايصدق انه كذب الخ درمختار ([1])، ددی څخه معلومه سوه چی په دی صورت کی دده ښځه پرده دده داقرار موافق حرامه سوه که څه هم دی ووایی مادرواغ ویلی دی خوقاضی به دده داخبره درواغ نه منی، اوپه شامی کی دی که فی الواقع دا اقرار دده دروغ وی نوفیما بينه وبين الله دده ښځه به پرده حرامه نه وی اما بينه وبين الله تعالى انكان كاذبا فيما اقر لم تثبت الحرمة. شامی، اوحرمت دمصاهرت دیوی یا ددوو ښځو په شاهدی نه ثابتیږی.

دخواښي دخاوند په لاس کي په وريجو ايښوولو سره حرمت نه ثابتيږي: سوال: (۲۵۰) زید دخپلی خواښی څخه کچه دانی دوریجو وغوښتلی دی وریجی راواخیستی اودزید په لاس کي یی کښی ښوولی دزید په زړه کی داخیال وو چی که دخواښی سره څه لږ مسحه هم وسی نوښځه حرامیږی ددی وجه څخه ده به ډیر احتیاط کوی خوچی کله خواښی دده په لاس وریجی کښې ښوولی نوده ته داخیال راغی چی همدا مس بالشهوة ... باعث دحرمت کیږی هسی نه چی دا ونه سی ددی په خیال راتلو سره دده په آلۀ تناسل کی څه لږ غوندی دحرکت احساس پیداسو خو ترقیامه ونه رسیدی اومیلان دزړه یی هم نه وو، نو په دی صورت کی حرمت دمصاهرت به ثابت وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی حرمت دمصاهرت ثابت نه دی اولږ غوندی احساس په حد دشهوت کی داخل نه دی اوچی دزړه میلان هم نه وی اوپه ښکاره په لاس کی دوریجو ایښولو په وخت کی هم نه وو بلکه وروسته چی مذکوره خیال راغی نولږغوندی احساس وسو چی په حد دشهوت کی داخل نه دی، قال فی الدرالمختار: والعبرة للشهوة عند المس والنظر لابعدهما. قال فی الشامی فيفيد اشتراط الشهوة حال المس فلومس بغير شهوة ثم اشتهى عن ذالك المس لاتحرم عليه ([3]) . فقط



([1]) ردالمحتار ایضا ، ط.س. ج۳ ص ۳۲. ظفیر
([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر
([3]) وګوری رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۳. ظفیر

دریم فصل

دهغه ښځو بیان چې دهغوی سره دشیدو درشتې دوجه نکاح حرامه وي

مریم چې کله دزید دښځې شیدې چښلې دي نوآیا دمریم یا ددې دلور سره دزید دزوی واده کول جائزدي اوکه نه؟ سوال: (۷۵۱) زید دعمر دخور فاطمې سره اوعمر دزید دخور سره نکاح کړیده دزید زوی عبد الحمید پیداسو اودعمر لور مریم پیدا سوله عبد الحمید دمریم دمور یعني دعمه شیدې یې وچښلې اومریم دعبدالحمید دمور یعني دخپلې ترور شیدې یې وچښلې بیا زید دخانم جانې نومي ښځې سره دوهمه نکاح وکړه ددې څخه یوهلك پیداسو عبدالصمد، نودعبد الصمد نکاح دمریم یادمریم دلور سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په صورت مسئوله کې مریم دزید رضاعي لور پیدا سوه ځکه چې مریم کله دزید دښځې فاطمه شیدې وچښلې نومریم څنګه دفاطمې رضاعي لور سوه نوداسې دزید هم رضاعي لورسوه لکه چې په مشهور شعر: ازجانب شیره همه خویش شوند ؒ کی ذکردی. وفي الدرالمختار: ویثبت به الخ وان قل الخ امومیة المرضعة للرضیع ویثبت ابوة زوجة مرضعة اذا کان لبنها منه له [1] الخ. نومریم دزید رضاعي لور سوه نوعبدالصمد چې دزید زوی دی ددوهمې ښځې خانم جاني څخه دمریمې ورور پیداسو اودمریمې لور دعبدالصمد خورزه سوه نودعبد الصمد نکاح دمریم یادمریم دلور سره صحیح نه ده. قال الله تعالی: واخوانکم من الرضاعة [2] وقال رسول الله ﷺ یحرم من الرضاع مایحرم من النسب [3].

ماشوم صرف خوله ولګوله نوآیا په دې سره به حرمت درضاعت ثابت وي: سوال: (۷۵۲) هندې پرته وه احمدې دهندې لور دخپلې مور شیدې رودلي احمدي خودخپلې مور تې پرېښووې اوهندې یوې بلې ښځې ته مخ واړوی اوخبرې یې ورسره کولې چې اچانك په بې خبرې کې حمیده چې دهندې دخور لورده دهندې تې یې په خوله کې واخیستې هندې دغه وخت خپل تې دحمیدې دخولې څخه را وایستې اودحمیدې خوله یې خلاصه کړه خو څه شیدې په نظر رانغلې اواحتیاطا دحمیدې شونډې یې په جامه وچې کړلې په دومره خبره رشته درضاعت ثابته سوه اوکه نه؟ اوآیادزیدچې دهندې زوی دی نکاح دحمیده سره

---

[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص ۵۵۲ وص ۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲. ظفیر

[2] سورة النساء رکوع ۴. ظفیر

[3] عن عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ یحرم من الرضاعة مایحرم من الولادة رواه البخاري وفي روایة ان الله حرم من الرضاعة ماحرم من النسب، رواه مسلم (مشکوٰة باب المحرمات ج۲ ص ۲۷۳). ظفیر

حرامه اوناجائز ده که نه ؟
جواب: که دهندې غالب ګمان داوی چی دحمیدی خولې ته څه شیدی نه دی تللی نوپه دی صورت کی حرمت درضاعت نه دی ثابت اودهندی دزوی زید نکاح دحمیدې سره صحیح ده اوکه په غالب ګمان دحمیدی په خوله کی څه شیدی په نظر راغلی وی نو حرمت درضاعت ثابت دی اودهندی دزوی زید نکاح دحمیدی سره صحیح نه ده اصل دا دی چی صرف په شك سره حرمت رضاعت نه ثابتیږی اوکه غالب ګمان دشیدو دچښلو وی نوحرمت رضاعت ثابتیږی اوحرمت رضاعت چی یوڅاڅکی دشیدوهم درضیع حلق ته ورسیږی نوثابتیږی. ویثبت به الخ وان قل ان علم وصوله لجوفه من فمه اوانفه لاغیر فلو التقم الحلمة ولم یدر ادخل اللبن فی حلقه ام لا لم یحرم لان فی المانع شكًا، ولوالجیه الخ (۱) ددی عبارت څخه ښکاره سوه چی که درضیع حلق ته په شیدو تللو کی شك وی اوپه حلق کی دشیدو تلل معلوم نه وی نوحرمت نه ثابتیږی اوکه په قرائنو سره معلومه سی اوغالب ګمان وی چی یو څاڅکی دحمیده نس ته تللی دی نوحمیده دهندی رضاعی لور سوه اونکاح دزید ددی سره صحیح نه ده اوپه قرائنو کی داهم ده چی کله دهندی لور دهندې شیدی رودلې اودغه وخت ددی په جلا کیدو سره حمیدی دهندی تی په خوله کی واخیستی نوښکاره حال پردی دال دی چی دحمیــدی حلق ته شیدی تللی دی اوداسی قرائنو لره فقهاؤ اعتبار ورکړیدی.کما نقله الشامی عن الطحطاوی (۲) . فقط
<u>**شیدې ورکوونکی ته شیدې ورکول صحیح یاد نه دي څه حکم دي؟**</u> **سوال**: (۲۵۳۱) دهندی مور اوپلار قسم اخلی چی زموږ هندی دماما عظمت شیدی نه دی چښلی علاوه دهندی څخه ځلورو انجونو دماما عظمت شیدی چښلی دی زید هم دماما عظمت شیدی چښلی دی، ماما عظمت وایی چی ماته صحیح نه دی یاد چی ماهندی ته شیدی ورکړیدی اوکه نه کله می خیال راځی چی شیدی می ورکړیدی اوکله می خیال راځی چی نه می دی ورکړی نوپه داسی صورت کی حرمت درضاعت ثابتیږی اوکه نه؟ اودزید نکاح دهندی سره صحیح ده اوکه نه؟
جواب: په شك سره حرمت درضاعت نه ثابتیږی اوصرف دیوی ښځی په بیان سره هم نه ثابتیږی اوپه مذکوره صورت کی دی یوی ښځی شیدی ورکوونکی ته هم شك دی نو حرمت درضاعت مابین زید وهنده به ثابت نه وی او دزید نکاح دهندی سره صحیح ده.

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ۵۵۲ وص۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲و۲۱۳. ظفیر
(۲) قوله ان لم تظهر علامة لم اَرَ من فسرها ویمکن ان تمثل بتردد المرأة ذات اللبن علی المحل الذی فیه الصبیة اوکونها ساکنة فیه فانه امارة قویة علی الارضاء (رد المحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳).ظ

کذا فی الدرالمختار (۱) . فقط

مړی کیدونکی ښځی وویل فلانی انجلی ته ماتی ورکړیدی ته ورسره واده مه کوه، څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۵۴) یوی ښځی په مرض موت کی خپل خاوند ته یوازي وویل چی زه اوس مرګ ته نژدی یم خودا خبره یاده وساته، چی مافلانی انجلی ته تی ورکړیدی هسی نه چی زما دمرګ څخه وروسته ددی سره نکاح وکړی دښځی پرمرګ دامسئله یوعالم ته مخکی سوه سائل ټوله ماجرا واوروله اوفتوٰی یی وغوښتله قاضی عالِم مذکور صرف پردی بناء چی څوك شاهد نسته سائل ته یی دمذکوره انجلی سره داسلامی شریعت په وجه دنکاح اجازه ورکړه نکاح هم وسوه، اوس سوال دادی چی دشریعت مفتی لره په دی معامله کی صرف دسائل په بیان باندی اعتبار کول جائز وه اوکه نه؟ اونکاح شرعا جائزسوه اوکه نه؟

جواب: مذکوره سړی که دخپلی ښځی دبیان تصدیق نه دی کړی اوده ته دشیدو ورکولو یقین نسته، نوچی شرعی شاهدی دشیدو ورکولو نسته ددی وجه څخه مذکوره نکاح صحیح ده اودعالِم فتوٰی صحیح ده. قال فی الدرالمختار حجة المال وهی شهادة عدلین او عدل وعدلیتین وفی الشامی قوله وهی شهادة عدلین الخ ای من الرجال وافاد انه لایثبت بخبر الواحد امرأة کان اورجلاً قبل العقد اوبعده وبه صرح فی الکافی والنهایة الی آخر ما حقق وفصل (۲) (خوکه مذکوره سړی دښځی تصدیق کوی اودسوال څخه همداسی معلومیږی ولي چی په یوه ځای کی هم ددی سړی انکار ذکر نه دی نوبیا به نکاح صحیح نه وه. ظفیر)

چی کله یی دلمسی شیدی وچښلی نوبیا ددی دلور سره نکاح جائزنه ده: **سوال**: (۷۵۵) دوی داکا لونِی دی دیوی صرف تی رودونکی زوی دی اودبلی تی رودونکی لور ده دهلك رشته ددی انجلی سره وسوه داتی رودونکی ماشوم اکثره دخپلی خاله یعنی کیدونکی خواښی سره اوسیدی ددی خاله به دی ماشوم دخوشحالولو دپاره خپل تی ورکوی نوڅه شیدی به په شکل داوبو ووتلی اودماشوم تسلی به باندی وسوه که څه هم په ماړه نس به ده دخپلی مور شیدی چښلي خوڅه لږ شیدی به یی دکیدونکی خواښی دتی څخه هم

---

(۱) فلو التقم الحلمة ولم یدر ادخل اللبن فی حلقه ام لا لم یحرم لان فی المائع شکا (درمختار) لوادخلت الحلمة فی الصبی وشکت فی الارتضاع لاتثبت الحرمة بالشك (رد المحتار باب الرضاع ص۵۵۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۲۱۲) والرضاع حجة المال وهی شهادة عدلین اوعدل وعدلتین (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص ۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴). ظفیر

(۲) رد المحتار باب الرضاع ص۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

چښلي، اوس دادواړه قابل دواده دی، په دی صورت کی ددی هلك نكاح ددی لور سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی داهلك دخپلی خاله رضاعی زوی سو ځکه چی دتی رودلو په عمر کی که یوڅاڅکی شیدی هم دماشوم خولی ته ولاړی سی نوحرمت درضاعت ثابتیږی نودغه دخاله لور اودا هلك چی ده یوڅاڅکی شیدی وچښلی نورضاعی خور او ورور سول اوددی دواړو خپل مینځ کی نکاح صحیح نه ده ([1]). فقط

هندی چی کم هلک ته شیدی ورکړیدی دهغه نکاح دهندی دلمسی سره صحیح نه ده: **سوال**: (۷۵۶) دهندی شپږ بچی پیداسوه دری هلکان اودری انجونی هنده دتهولو څخه دکشری زوی په وار کی دخپلی ترور دلور زوی ته هم شیدی ورکړې دیوکال په عمر کی نوددی رضاعی زوی نکاح دهندی دلمسۍ سره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دهندی دلمسۍ سره دهندی درضاعی زوی نکاح صحیح نه ده ځکه چی دا لمسۍ دهندی ددغه هلك رضاعی خورزه سوه ([2]).

چی دکمی خوښینی لور دترور دخاوند دورینداری شیدی وچښلی ددی سره واده جائزنه دی:

سوال: (۷۵۷) دیوسړی دخوښینی لورده هغې دده دورینداری تی ورودی نوددی سړی ددغه انجلی سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ ځکه چی دادشیدو دوجه ددغه سړی وریره سوه په داسی حالت کی دخوښینی دلور سره ددی نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: درضاعی وریری سره نکاح صحیح نه ده لحدیث الشیخین: یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب ([3]). فقط

ددری کالو په عمر کی په تی رودلو رضاعت نه ثابتیږی: **سوال**: (۷۵۸) کوچنی خور ته مشری خور شیدی ورکړلی مشره خوروایی دشیدو ورکولو په وخت کی ددی کوچنی خور عمر دری کاله وو ددی څخه علاوه بل هیڅ قسم شاهدی نسته نوپه دی صورت کی به حرمت درضاعت ثابت وی اوکه نه؟ مور داوویل چی تاسی دواړو یوی بلی ته شیدی ورکړیدی تاسی په خپلو کی رشته مه کوی.

جواب: چی کله شیدی ورکوونکی دکشری خور عمر په وخت دشیدو ورکولو دری کاله

([1]) قلیل الرضاع وکثیره سواء اذا حصل فی مدة الرضاع تعلق به التحریم (هدایه) اما لوشك بان ادخلت فی فم الصغیر وشکت فی الارتضا لاتثبت الحرمة بالشك الخ والواجب علی النساء ان لا یرضعن کل صبی من غیر ضرورة وفتح القدیر لابن الهمام کتاب الرضاع ص ۳۰۴ و۳۰۵ ج۳. ظفیر

([2]) و([3]) یحرم من الرضاع مایحرم من النسب (هدایه) فحدیث الصحیحین مشهور (فتح القدیر کتاب الرضاع ص ۳۰۷ ج۳). ظفیر

وایی اوبل څه شاهدی دعمر اودرضاعت په باره کی نسته نوپه دی صورت کی دحرمت درضاعت حکم نه سی کیدی اوکوچنی خور به دلوی خور رضاعی لور نه متصور کیږي. کما فی الدرالمختار یثبت التحریم فی المدة فقط الخ وفی الشامی اما بعدها فانه لا یوجب التحریم (۱) اوددوی دمور بیان مبهم هم دی اودا شاهدی کافی هم نه ده (۲).

چي دکمي انا شيدي يي وچنبلي دهغه دلمسي سره نکاح جائز نه ده: **سوال:** (۱۷۵۹) یوی ښځی دداسی سړی سره نکاح کړیده چی دی ښځی ددی سړی دانا شیدی چنبلی دی او دانا شیدی دبچی دپیدا کیدو په سبب نه وي بلکه چی داماشوم یی دسینی سره ولګوی نوشیدی ورته راغلی زمانه ددی دشیدو دشیدو په چنبلو کی دشپږو میاشتو عمر دی، نو دا نکاح جائزهده اوکه نه؟ بعض عالمان دی نکاح ته ناجائز وایی؟

جواب: بی شکه مذکوره نکاح ناجائزده ځکه چی دی ښځی کله ددی سړی دانا شیدی چنبلی دی نودا ددی سړی رضاعی ترور سوه، اوچی څنګه نسبی ترور حرامه ده داسی رضاعی ترورهم حرامه ده. لقوله ﷺ یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب (۳) اوپه موده درضاعت کی په شیدو چنبلو هرقسم حرمت درضاعت ثابتیږی که څه هم دمرضعه بچی اوس نه وی پیداسوی هسی چی یی ماشوم سینی ته واچوی اوشیدی راغلی هم (۴). فقط

دزيد دوهمي ښځي عائشي ته شيدي ورکړلي نو دزيد زوی نکاح دعائشي سره صحيح ده او که نه؟ **سوال:** (۱۷۶۰) زینب یوزوی منیر احمد پریښووی اومړه سوه ددې څخه وروسته زید چی خاوند دزینب اوپلار دمنیر احمد دی بل واده وکی دخاتون سره چی دهغه یوه لور حامده پیداسوه خاتون ددی پاسخورده شیدی عائشې ته ورکړلی اوس که دمنیر احمد ولد زینب زوجه اولی نکاح دعائشی سره وسی نودا نکاح به صحیح وی اوکه نه؟ منیر احمد نه دخاتون شیدی چنبلی دی اونه یی دعائشی دمور اودانا شیدی چنبلی دی اوعائشه هم دزینب شیدی نه دی چنبلی.

جواب: دمنیر احمد پلار زید چی کله دمنیر احمد دمور دمرګ څخه وروسته دخاتون سره نکاح ثانی وکړه اودخاتون دنس څخه حامده پیداسوه اوعائشی دخاتون شیدی وچنبلی نوعائشه دزید هم رضاعی لور سوه اودمنیر احمد میریزی رضاعی خور سوه نودمنیر

(۱) وګوری رد المحتار باب الرضاع ص ۵۵۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر

(۲) حجته حجة المال وهی شهادة عدلین اوعدل وعدلتین (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴). ظفیر

(۳) وګوری الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۷. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر

(۴) ویثبت به الخ وان قل (ایضا ص۵۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲). ظفیر

احمد نكاح دعائشي سره صحيح نه ده كمافي الدرالمختار: ويثبت ابوة زوج مرضعة اذا كان لبنها منه له (۱) الخ. اوپه شامي كي دي: وقد يكون لاب كما اذا كان لرجل امرأتان وولد تامنه فارضعت كل واحدة صغيرا فان الصغيرين اخوان لاب حتٰى لوكان احدهما انثى لا يحل النكاح بينهما (۲) الخ. فقط

درضاعي نيكه (دپلار پلار يا دمور پلار) ښځه ولي حرامه ده؟ او دشرح وقايي دعبارت څه مطلب دی؟ سوال: (۲۲۱\۱) دجناب څخه زماسوال چي درضاعي نيكه درضيع دپاره دجائز كيدو په باره كي وو ددی دجواب په وركولومعلومه سوه چي لكه څنګه چي دنسبي نيكه دښځی سره نكاح حرامه ده همداسي درضاعي نيكه دښځی سره نكاح هم حرامه ده خو په شرح الوقايه كتاب الرضاع كي دمستثنٰی په آخركي چي يي كم داعبارت: وام عمة وعمته وام خالة وخالته، كي دي، په دي كي په دري صورته را ايستلو باندی شارح فرمايي لكه چي لوړ: وام اخيه واخته، كي دری دری صورتونه جوړيدل داركم كه دلته هم راووزی نوپه دی كي صورت داسي راوزی چي دهغه څخه درضاعي نيكه دښځی يعني درضاعي مور اوپلار دميره مور سره نكاح جائز ثابتيږي، اول صورت داكا يا دماما نسبي رضاعي مور، دوهم صورت درضاعي اكا يادماما رضاعي مور، خير په دی دواړو جواز كي خوڅه شك نسته خوپه دريم صورت كي شبهه ده درضاعي مور يا پلار دميره مور سره جائز كيدل پكاردي داجائز دی اوكه نه؟

جواب: په حديث شريف كي دي: يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب، (۳) ددی سره متعلق حرمت دهغه رضاعي ښځو ثابتيږي چي دكمو حرمت په نسب ثابت دی اوپه دی كي درضاعي نيكه ښځه هم داخله ده. كما في الدرالمختار وزوجة اصله وفرعه مطلقا ولو بعيدًا دخل بها ام لا واما بنت زوجة ابيه اوابنه فحلال وحرم الكل مما مر تحريمه نسبًا ومصاهرة (۴) رضاعًا الخ. اوپه ردالمحتار كي دي: يعني يحرم من الرضاع أصوله وفروعه وفروع أبويه وفروعهم ، وكذا فروع أجداده وجداته الصلبيون ، وفروع زوجته وأصولها وفروع زوجها وأصوله وحلائل أصوله وفروعه (۵) الخ. اوپه مستوى شرح موطاء كي حضرت شاه ولي الله په اتفاق دعلماؤ ليكي: كل من عقد النكاح على امرأة

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲. ظفير
(۲) رد المحتار باب الرضاع تحت قوله لكونهما اخرين ص۵۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفير
(۳) مشكوٰة شريف باب المحرمات ص۳۷۲. ظفير
(۴) الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فى المحرمات ص۳۸۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۱. ظفير
(۵) رد المحتار فصل ايضا ص۳۸۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۱. ظفير

یحرم المنکوحة علی اباء النکاح وان علوا وعلی ابنائه وابناء اولاده من النسب والرضاع جمیعا وان سفلوا تحریماً مؤبداً بمجرد العقد، اوپه عالمگیری کی دمحرمات صهریه په بیان کی لیکی: والرابعة نساء الاباء والاجداد من جهة الاب والام وان علوا فهولاء محرمات علی التابید نکاحًا وطئًا کذا فی الحاوی القدسی (۱) اوبیا هم په دی کی درضاع دمحرمات په بیان کي لیکی: کل من تحرم بالقرابة والصهریة تحرم بالرضاع علی ما عرف فی کتاب الرضاع (۲) اوپه کتاب الرضاع کی یی که څه هم لیکلی دی: وتحمل ام اخیه وام عمه وعمته وام خاله وخالته من الرضاع هکذا فی شرح الوقایه. خوددریم صورت مسئوله ذکرپه دی کی نسته نوداحتیاط تقاضا داده چی په صورتونو مسئوله کی په مقابله ددی معتبرو عبارتونوکي ددی په خلاف عمل ونه سی.

چی دکمی ښځی شیدی یی چښلی دی دهغه دیوی لور سره هم نکاح جائزنه ده: سوال: (۲۲۱/۱) یوهلك دخپلی حقیقی اکا ښځي شیدی وچښلی چی دهغې ډیرزامن دی نوچی ده دکمی انجلی سره په یوځای شیدی نه دی چښلی نوددی سره ددی رضیع هلك نکاح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دمرضعه تمام اولاد پررضیع حرام دی که دده سره یی په یوځای شیدی چښلی وی اوکه نه یعنی مخکنی او وروسته اولاد دمرضعه ټول بچی پرده حرام دی، نودیوه سره یی هم، په دوی کی نکاح صحیح نه ده. (۳) از جانب شیر ده همه خویش شوند، الخ .

درضاعی خورزه سره نکاح جائزنه ده: سوال: (۲۲۳) زید دهندی شیدی چښلی دی او دهندې نسبی لور زینب سلیمې ته شیدی ورکړی ددی وجه څخه داسلیمه دزید رضاعی خورزه سوه اوس دزید نکاح دسلیمی سره جائزده اوکه نه؟

جواب: هنده چی مرضعه ده ددی نسبی لور دزید رضاعی خور سوه اوسلیمه دزید رضاعی خورزه سوه نوپه حکم دحدیث: یحرم من الرضاع مایحرم من النسب (۴) اوپه حکم د: حرمت علیکم امهاتکم وبناتکم، الی قوله تعالی: وبنات الاخت (۵) دزید نکاح دسلیمه سره حرامه ده.

---

(۱) عالمگیری مصری باب اقسام المحرمات ص۲۵۲ ج۲. ط. ماجدیة ج۳ ص ۳۷۴. ظفیر
(۲) عالمگیری مصری باب ثالث فی بیان المحرمات ص ۲۵۹ ج۲. ط. ماجدیه ج۱ ص ۲۷۷. ظفیر
(۳) یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جمیعا (عالمگیری. مصری کتاب الرضاع ص۳۲۱ ج۲. ط. ماجدیة ج۳ ص ۳۴۳). ظفیر
(۴) مشکوٰة شریف باب المحرمات ص ۲۷۳. ظفیر
(۵) سورة النساء رکوع ۴. ظفیر

درضاعي لور سره نكاح صحيح نه ده: **سوال**: (۲۲۴\) هنده دزيد رضاعي خورده دزيد لور مړه سوه اوس دزيد پلار بكر دهندي عقد شرعي كولى سي اوكه نه؟

جواب: دهندي اودزيد دورور خور كيدو صورت داوي چي هنده دزيد دمور يعني دمنكوحي دبكر شيدي چښلي وي نوبيا خوهنده دبكر رضاعي لور سوله نودبكر نكاح دهندي سره بيانه سي كيدي (١) اوكه صورت داوي چي زيد دهندي دمور شيدي چښلي وي يادواړو ديوي دريمي ښځي شيدي چښلي وي اوددي رضاعي ورو خور وي نوپه دي صورت كي دزيد پلار نكاح دهندي سره كولى سي. كمافي الدرالمختار: وتحل اخت اخيه رضاعا (٢) الخ، وقس عليه اخت ابنه.

په دوو خوندو كي يوي دبلي بعضي اولاد ته شيدي وركړلي اوبعضي ته نه نو دنكاح څه حكم دي؟ **سوال**: (۲۲۵\) رقيه اوزينب سكه خوندي دي اورقيه دزينب څخه ظهور الحسن، اظهار الحسن اوصدر الحسن ته شيدي وركړيدي اوزينب هم درقيه لوري فاطمه اوزوي غلام محمد مرتضى ته شيدي وركړي نواوس درقيه دزوي غلام محمد مصطفىٰ اوغلام محمد مجتبىٰ چي دزينب شيدي يي نه دي چښلي دزينب دلوڼو آمنه اوكلثوم سره چي دوي هم درقيه شيدي نه دي چښلي نكاح جائزده اوكه نه؟

جواب: په درمختاركي دي: وتحل اخت اخيه (٣) رضاعًا. نوپه صورت مسئوله كي دغلام مصطفىٰ اودغلام مجتبىٰ چي درقيه زامن دي نكاح دآمنه اودكلثوم دزينب دلوڼو سره صحيح ده.

چي كم لمسي ته انا شيدي وركړي دده نكاح ددي دلمسي سره جائزنه ده: **سوال**: (۲۲۶\) شوكت علي دخوارلسو پنځلسو ورځو وو چي دده مور ناجوړه سوه په دي حالت كي دوه دري واره دده انا حسيني بيگم ده ته شيدي وركړي اودشيدو وركولو چشم ديد شاهدان ماسوا دده دانا اودمور څخه علاوه بل څوك نسته نوشوكت علي دمحموده بانو دمور يعني دحسيني بيگم دلمسي سره نكاح جائزده اوكه نه اوشوكت علي دعباس علي زوي دي يعني دحسيني بيگم لمسي دي.

جواب: كه واقعي حسيني بيگم شوكت علي دعباس علي زوي ته شيـدي وركـړي وي نو

---

(١) ويثبت به وان قل الخ اومية المرضعة للرضيع ويثبت ابوة زوج مرضعة اذا كان لبنها منه له والا لا، فيحرم منه اى بسببه ما يحرم من النسب (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲). ظفير

(٢) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفير

(٣) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفير

شوکت علی دحسینی بیگم رضاعی زوی سو اودحسینی بیگم تمام اولاد دشوکت علی وروڼه اوخوندی رضاعی سوه اودمحموده بانولور دشوکت علی رضاعی خورزه سوه، نوپه قاعده درمختار: یحرم من الرضاع مایحرم من النسب، (۱) سره دشوکت علی نکاح دمحموده بانو دلور سره حرامه ده، په درمختار کی دی: ولا حل بین الرضیع وولد مرضعتها الخ وولدها الخ (۲) خوحرمت درضاعت بغیر ددوو سړو عادلانو یادیوه سړی اوددوو ښځو عادلانو دشاهدی څخه نه ثابتیږی خودشاهدی ضرورت په صورت دانکار وی، که زوجینوته ددی اقرار وی نوبیا دشاهدی هیڅ حاجت نسته ددوی په حق کی حرمت ثابت دی. په درمختار کی دی: حجة المال وهی شهادة عدلین اوعدل وعدلتین (درمختار) قوله وحجة ای دلیل اثباته وهذا عند الانکار لانه یثبت بالاقرار مع الاصرار کما مر (۳) شامي ص ۴۱۳.

درضاعي ورور دلور سره نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۲۲۷) زید دعمر دسکه خور سره چی دعمر څخه کشره ده دعمر دسکه مور شیدی وچنبلی اوس عمر په خپله دزید دسکه لور سره په خپله نکاح کړیده چی دانکاح شرعًا جائزده اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی: یحرم من الرضاع مایحرم من النسب (۴) خورزه او وریره چی څنگه نسبی حرام دی داسی رضاعی هم اوزید چی کله دعمر دمور شیدی وچنبلی نوپه قاعده د: ازجانب شیر ده همه خویش شوند. دمرضعه تمام اولاد عمر وغیره دزید سره په یوځای شیدی چنبلی وی اوکه یا مخکی یا وروسته. کذا فی الدرالمختار: وان اختلف الزمن والاب (۵) الخ. دزید وروڼه او خوندی رضاعی سوی نو دزید دعمر دلور سره نکاح قطعی حرامه ده، چی دایی رضاعی وریره ده.

دشپیتو کالو یوی بوډی یو ماشوم سینی ته واچوی او اوبه څینی ووتلی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۲۸) یوی ښځی خپل بچی ته تردوو کالو پوری شیدی ورکړلی اودتی څخه یی پری کی داخوپه خپله په کارکی مصروفه سوه اوماشوم دشپیتو کالو بوډی انا سره چی دهغي دپنځلسو شپاړسو کالو راهیسی بچی نه دی پیداسوی دغه ماشوم دژړا په وخت دچپ کولو دپاره خالی سینوته یی واچوی چی په هغه کی دشپاړسوکالو راهیسی شیدی وچي

(۱) رد المحتار باب الرضاع ص ۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفیر
(۳) رد المحتار باب الرضاع ۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر
(۴) رد المحتار بار الرضاع ص ۵۵۷ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر
(۵) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۲۱ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفیر

وي خپل تی یې دهلك په خوله کی ورکړی داسی دوی دری میاشتی وکړل دری څلور میاشتی وروسته دې ته معلومه سوه چی زما دتی څخه څه شی وزی چی شیدو ته یی وکتل نومعلومه سوه چی داسی سرینبناکی اوبه دی. ددی وجه دی یې بچی ته ورکول بند کړل دیو یادوو څاڅکو دماشوم نس ته په تلوسره رضاعت ثابتیږی اوکه نه؟

جواب: په عالمګیری کی دی: دخل فی فم الصبی من الثدی مائع لونه اصفر تثبت حرمة الرضاعة لانه لبن تغیر (١) الخ. ددی روایت څخه معلومیږی که لبن متغیری هم سی نو حرمت رضاعت باندی ثابتیږی (٢) اوچی یو دوه څاڅکی هم دماشوم نس ته ولاړی سی نو حرمت رضاعت ثابتیږی ولي چی په درمختار کی دی: ویثبت به وان قل ان علم وصوله بجوفه من فمه اوانفه (٣) الخ.

درضاعي خور سره نکاح جائزنه ده اوچی څه خرڅ سویدی دا دده سویدی: سوال: (٢٦٩)

امداد خان دشیخ جهانګیر دښځی شیدی وچښلی بیا دشیخ جهانګیر ددغه ښځی انتقال وسو اوشیخ جهانګیر دتفیا سره نکاح وکړه ددی څخه یوه لور حمیدة النساء پیداسوله دامداد خان نکاح دحمیدة النساء سره جائزده اوکه نه؟ که جائزنه ده نودامداد خان دپلار چی په واده کی ډیرخرڅ سوی وو هغه به څوك ورکوی اوشیخ جهانګیر هم دخرڅ دوصولولو دپاره کوشش کوی؟

جواب: چی امداد خان دجهانګیر دښځی شیدی وچښلی نوامداد خان دجهانګیر رضاعی زوی سو نودحمیدة النساء سره یی نکاح باطله (٤) ده، اوخرڅ به څوك دچاهم نه ورکوی چی چا کم خرڅ کړی دی هغه دبل څخه نسی اخیستی.

یوی ښځی عمر ته شیدی ورکړلی اوددی لور میریزی. ته نو په دی دواړو کی واده جائزنه دی:

سوال: (٢٧٠) یوی ښځی اوددی لور دواړو درضاعت کسب اختیار کی نومور یوه هلك

---

(١) عالمګیری مصری کتاب الرضاع ص٣٢٢ ج٢. ط. ماجدیه ج١ ص ٢۴۴. ظفیر

(٢) په صورت مسئوله کی په حرمت ثابتیدو کی تردد دی ځکه چی دشپیتو کالو بوډی چی دهغې دپنځلسو یا دشپاړسو کالو راهیسی بچی کیدل بند سویدی دهغې په سینه کی متغیري شیدی دکم ځای څخه راغلي داخو په اصل کی اوبه دی چی په دی سره حرمت نه ثابتیږی لکه چی دباکرې په باره کی فقهاء صراحت کوی: بکر لم تتزوج لونزل لها لبن فارضعت صبیا صارت اما وتثبت جمیع احکام الرضاع الخ. اومذکور دی: وکذا لونزل البکر ماء اصفر لایثبت من ارضاعه تحریم هکذا فی فتح القدیر (عالمګیری مصری کتاب الرضاع ص٣٢٢ ج١. ط. ماجدیه ج١ ص ٢۴۴). ظفیر

(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص٥٥٢ ج٢ ، ط.س. ج٣ ص ٢١٢. ظفیر

(۴) ویثبت ابوة زوج مرضعة اذا کان لبنها منه له والا لا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص ٥٥٧ ج٢. ط.س. ج٣ ص ٢١٢ و٢١٣). ظفیر

عمر ته اولور يوې انجلى ميرن تـه شيدى وركړلـى نـودعمر نكاح دميـرن سره صـحيح ده اوكه نه؟

جواب: چې كم هلك دمور شيدې وڅښلې نودى ددى دلور رضاعى ورور سو اوچى كمى انجيلۍ ددې دلور شيدې وڅښلې نو دا ددې هلك رضاعي خورزه سوه اوپـه قاعده د: يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب (۱)، سره ددوى نكاح حرامه ده. فقط

چه كم هلک شيدې څښلى دى دده دخور سره دشيدى وركوونكى ښځې دزوى نكاح جائز ده:

سوال: (۲۷۱) زيد او عمر دواړه وروڼه دى ددوى دمور شيدې هنده دعمر سره څښلى دى دهنده دشيدو څښلو په وخت عمر داته ويشتو مياشتو په عمر وو او هنده ديوي مياشتى اوس دهنده سره دزيد نكاح جائز ده اوكه نه؟ او يوه خور يې ترهنده كوچنۍ ده ددې سره دزيد نكاح جائز ده اوكه نه؟

جواب: هنده چه كله دزيد او دعمر دمور شيدې وڅښلې نو دمرضعه تمام اولادونه پرهنده حرام سوه لكه چه په دى شعر كي ئى دا بيان كړيدى:

زجانب شير ده همه خويش شودند واز جانب شير خوار زد جان وفروع

دشيدو وركوونكى ټول اصول او فروع به پر حرام وى، او دتى رودونكى به خپل ځان او اولاد پر حرام وى.

او په درمختار كي دى: ولا حل بين الرضيع وولد مرضعتها (۲) ددى عبارت څخه هم واضحه ده چه دمرضعه تمام اولاد درضيع دپاره حرام دى ددى وجه څخه نكاح دهنده دزيد سره صحيح نه ده او هنده اگر چه دزيد سره شيدې نه دى څيښلى بلكى دعمر سره يې څښلى دى خو چه كله زيد هم دمرضعى زوى دى نو ددى وجه څخه دهنده دپاره دى هم حرام دى، ديو ځاى څښلو اونه څښلو اعتبار نسته لكه چه په درمختار كي دى: وان اختلف الزمن والاب (۳) الخ او په شامي كي دى: قوله وان اختلف الزمن كان ارضعت الولد الثانى بعد الاول بعشرين سنة مثلاً الخ (۴) او دهنده دبلى خور سره چه هغى دزيد او دعمر دمور شيدې نه دى څښلى نكاح صحيح ده: وتحل اخت اخيه رضاعًا (درمختار) (۵). فقط

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفير

(۲). الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲ ط. س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفير

(۳). ايضًا ط. س. ج.۳ ص۲۷۱. ظفير

(۴). ردالمحتار باب الرضاع ص۵۲۷۱ ج۲ ط. س. ج۳ ص۲۱۷. ظفير

(۵). الدر المختار على هامش رد المحتار باب الرضاع ص۵۲۱ ج۲ ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفير

په صورت مسئوله کښي څه حکم دی؟ سوال: (۲۷۲) زید دهنده شیدې وڅښلي اوس دهنده دخاوند لور چه دزینب دګیډی څخه ده ددی دلمسی سره دزید نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: دزید نکاح دزید درضاعی پلار دلور دلمسۍ سره ناجائز ده لقوله علیه الصلوة والسلام یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب (۱) وفی الدر المختار: ویثبت ابوة زوج مرضعه اذا کان لبنها منه له الخ قوله له ای للرضیع للشامی (۲) فقط.

چه کله انا (دمور مور) شیدی ورکړي نو دمامي دلور سره نکاح نه سی کیدی: سوال: (۲۷۳) زید ته دده انا یو ځل په غلطی سره شیدې ورکړي اوس دزید نکاح دده دماما دلور سره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: چه کله انا یو ځل خپل لمسی زید ته په حالت دعمر دشیدو ورکولو شیدې ورکړې نو زید دخپلی انا رضاعی زوی سو او دانا اولاد دده ورونه او خویندی سوې نو دزید دماما لور ددع رضاعی وریره سوه نو دزید نکاح ددې سره صحیح نه ده، لانه یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب کذا فی عامه کتب الفقه. (۳)

ښځه منکره سوه اوګواه ګواهي ورکړه نو درضاعت دپاره څه حکم دی؟ سوال: (۲۷۴) دهنده په باره کي په عام طور سره مشهوره ده چه دی زینب ته چه نوي پیدا سوی انجلۍ ده دې ته ئی خپلي شیدې ورکړی او پردی څلورو ښځو او یوه سړی ګواهی ورکړه چه مونږ په خپلو سترګو زینب ته هنده په شیدو ورکولو لیدلی ده هنده په قسم وائی چه ما زینب ته بالکل شیدې نه دی ورکړی بلکه واقعه داسی وه چه دزینب مور ددی په څلویښتی کي مړه سوه نو تردرو ورځو پوری به می کله کله دزینب دغولولو دپاره واخیسته خو شیدې می ورته بالکل نه دی ورکړی دغه وخت زما په سینه کي شیدې نه وې هنده دشیدو ورکولو څخه انکار کوی اوس چه کله دزینب نکاح دهنده دلیور سره وسوه نو څه خلق پر دی دوستی باندې معترض سوه درضاعت دحرمت مسئله تربحث لاندې سوه په دی سره څو عالمانو دغه لوړ مذکور شهادتونه واخیستل او فتوی ئی ورکړه چه حرمت ثابت دی او دهنده بیان ئی وانه خیستی خو چه کله دجینئی قریبانو دبهر عالمانو څخه فتوی وغوښتله نو دوی دهنده بیان واوریدی او دنکاح دجواز فتوی ئی ورکړه او په دلیل کي ئی دا عبارت راوړی: وفی القنیة امرأة کانت تعطی ثدیها صبیه واشتهر ذلك فیما بینهم ثم تقول لم یکن فی ثدیی لبن حین القتها ثدیی ولا یعلم ذلك الا من جهتها جاز لابنها ان

(۱). مشکوة شریف باب المحرمات ص۲۷۳. ظفیر
(۲). ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲. ط. س. ج۳ ص۲۱۳. ظفیر
(۳). وګوری ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲ ط. س. ج ۳ ص۲۱۳. ظفیر

يتزوج بهذه الصبية. (۱) په دی صوت کي مجوزين دنکاح پرحق دی اوکه مانعين او جمله د: واشتهر ذلك الخ او د: ولايعلم ذلك الخ قابل دغور ده اوکه نه؟

جواب: دقنيه دروايت: امرأة كانت تعطى ثديها (۲) الخ منشأ هم داده چي په صورت مسئوله کي چه کله هنده په خپله سينه کي دشيدو کيدلو څخه منکر ده حرمت رضاعت به ثابت نه وی ځکه چه ګواهان صرف دا ويلی سی چه دوی دهنده تی په خوله دزينب کي ليدلی وو خو صرف اوصرف په دې سره حرمت نه ثابتيږی لکه چه عبارت ددرمختاردی: فلو التقم الحملة ولم يدر أدخل اللبن ام لالم يحرم لان فى المائع شكًا (۳) او دمذکوره عبارت دقنيه څخه ثابته ده نو معلومه سوه چه په دی باره کي مجوزين دنکاح پرحق دی، او په سينه کي دشيدو کيدلو اونه کيدلو معلومات صرف ښځی ته کيدی سی په دې باره کي ګواهانو ته څه علم نه سی کيدی، په ګواهانو سره صرف اثبات دادخال حلمه فى فم الصبى کيدی سی او دا دحرمت دپاره کافی نه دی او جمله د: واشتهر ذلك بينهم (۴) ددی ښه وضاحت کوی چه دګواهانو دبيان: كانت تعطى ثديها، په مقابله کي دښځی: لم يكن فى ثديى لبن حين القتها ثديي، (۵) به مسموع وی. فقط

دشيدو رودونكي انجلي، واده دشيدو وركونكي ښځي دزوی سره جائز نه دی: **سوال**: (۲۷۵)

الف مړ سو دده ښځی هنده دده دورور ب سره عقد شرعی وکړی دهندی دګيډی څخه دالف دوه زامن دی هنده چه کله دب سره واده وکړی نو ددې څخه دده اولاد وسو دب دويمه ښځه زبيده هم وه دزبيدی څخه دب دوې لونې دی يوه دهندې سره ترعقد وړاندی سويده او دويمه لور دزبيدی په ورځو درضاعت کي دهنده دزوی سره يې دهنده شيدې وڅنبلي اوس ب دخپل ورور الف دزامنو سره دخپلو دواړو لونو واده کول غواړی چه دزبيدی دی دا صحيح ده او که نه؟

جواب: دب چه کمه لور دزبيدی دبطن څخه ده او دهندی شيدې ئی څنبلی دی ددې نکاح دهنده دزوی سره صحيح نه ده (۶) چه دالف زوی دی او چه کمي لور ئی دهندې څخه شيدې نه دی څنبلی دهغی نکاح دهنده او دالف دزوی سره صحيح ده. (۷) فقط

---

(۱) وګوری ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۲ ج۲، ط. س. ج۳ ص۲۱۲. ظفير

(۲) ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۲ ج۲، ط. س. ج۳ ص۲۱۲. ظفير

(۳). الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الرضاع ص۵۵۲ ج۲. ط. س. ج۳ ص۲۱۲. ظفير

(۴). ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص۲۱۲. ظفير

(۵). ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص۲۱۲. ظفير

(۶). يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲. ط. س. ج۳. ۲۱۳). ظفير

(۷). ځکه چه شيدې يې ونه څنبلي نو حرمت ثابت نه سو. ظفير

دمیریزی انا (دپلار داړخه) شیدې یې وڅښلي نو دده نکاح دپلار دخور دلورسره به صحیح وی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۷۶) دزید واده دده دنسبي پلار دخورزی دلورسره په داسی صورت کي چه زید دخپلی میریزي انا (دپلار میره مور) شیدې هم څښلی دی یعنی زید دخپلی رضاعی مور دمیریزی لور دنمسی سره واده کول غواړی صحیح ده اوکه نه؟

جواب: درضاعی مور سکه اولاد او داولاد اولاد پررضیع حرام دی او دا هم مسئله ده چه درضاعی مور خاوند چه دهغه څخه ددی شیدې وی هغه درضیع پلار کیږی نو دده داولاد اولاد به هم پررضیع حرام وی نو ددی وجه څخه مذکوره نکاح به صحیح نه وي، ویثبت منه وان قل الخ امومیة المرضعة للرضیع ویثبت ابوة زوج مرضعة اذا کان لبنها منه الخ (۱). فقط

سوال: (۲۷۷) دوی حقیقی خوندی په کورکی بیدی وی یوه خور دڅه ضرورت په وجه ولاړه اوخپل زوی یی دخور سره څملوی دا بیده وه اوهلك هم بیده وو داهلك په خپله یادی خپل زوی وګڼی اوخپله سینه یی دده په خوله کی ورکړه چی دکمی ښځی تی دماشوم خولی ته تللی وو دهغه لوردغه ماشوم هلك ته په نکاح سویده نودا نکاح جائزده اوکه نه؟ نورڅه شاهد دشیدو ورکولو نسته نونکاح به ددوی قائمه وی اوکه نه؟ که نه نو څه کول پکاردی؟

جواب: په دی صورت کی رضاعت ثابت نه دی ځکه چی ددی دثبوت دپاره دوه عادلان سړی یادیوه سړی اوددوو ښځو شاهدی شرط ده صرف دیوی ښځی په ویلو رضاعت نه ثابتیږی، په کنزکی دی: ویثبت الرضاع بما یثبت به المال (۲) اوپردی په بحر الرائق کي لیکی: وهوشهادة رجلین عدلین اورجل وامرأتین فلایثبت بشهادة امرأة واحدة (۳)، ددی وجه څخه نکاح دزوجینو قائمه اوصحیحه ده.

چی کم ورور شیدې نه دی چښلي دهغه واده دشیدو ورکوونکي دلور سره صحیح دی: **سوال**: (۲۷۸) دزید یوزوی دبکر دښځی شیدی وچښلی دبکر یوه لور ده اودارکم دزید مشر زوی دی چی هغه دبکر دښځی شیدی نه دی چښلی دده سره دبکر دلور نکاح جائزده او که نه؟ که جائزده نو دا روایت دفقه چي: ویجوز ان یتزوج رجل باخت اخیه من الرضاع، به څه مطلب اوڅه جواب وی؟

جواب: دزید دمشر زوی چی هغه دبکر دښځی شیدی نه دی چښلی دبکر دلور سره نکاح

---

(۱). الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص ۵۵۲ – ۵۵۷ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۲۱۲. ظفیر
(۲) کنز الدقائق علی هامش البحر الرائق کتاب الرضاع ص ۲۴۹ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص۲۲۴. ظفیر
(۳) البحر الرائق کتاب الرضاع ص ۲۴۹ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

جائز اوحلاله ده. کمافی الهدایه ویجوز ان یتزوج الرجل باخت اخیه من الرضاع (۱) اوپه دی کی دقرآن کریم اودحدیث مخالفت نسته ځکه چی دحدیث مطلب دادی چی کم په نسب حرام دی دهغه نظیر په رضاع کي هم حرام دی خوچی کم ځای نظیر مفقود وی لکه چی نسباً دورور مور حرامه ده خوددی وجي چی دا به دده هم موروی اویابه یی دپلار موطوئة وي اودا معنٰی په رضاع کی مفقوده ده ځکه چی دورور په شیدو چښلوسره دا دده څنګه مور سوه دارکم رضاعی پلار دورور رضاعی پلار څنګه کیدی سی چی دده داولاد سره یې اخوت ثابت سی دارکم دورور رضاعی خور دبل ورور دپاره پردی ده نوپه نکاح کی هیڅ حرج نسته اوپه دی صورت کی خو داعتراض هم څه موقع نسته ځکه چی دلته خو نسباً هم جائزده، داخ الام دخور سره یعنی دپلار دمنکوحی په مخکی دزوی سره نکاح کول جائزدی نودلته خواعتراض هم نسته، په باقی مستثنیاتوکی اعتراض سویدی چی دهغه په جواب کی عالمانو ثابته کړیده چی مستثنیات په حدیث شریف کی شامل نه دی. کمافی الشامی تحت قوله استثناء منقطع (۲) اوددی خلاصه هم داده چی موږ ورته اشاره وکړه، فلیراجع . فقط

دښځی سینه په خوله کی اخیستل څنګه دی؟ سوال: (۲۷۹) که یوسړی دخپلی ښځی سینه په خوله کی واخلی اوبیا داحامله سی اوپه خوله کي یې واخلی اوناڅاپه خولې ته شیدی راسی اوذائقه معلومه سی خونس ته نه وی تللی بلکه وی توکی نوپه دی صورت کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی دده ښځه پرده نه حرامیږی که شیدی یی حلق ته تللی وی هم ښځه نه باندی حرامیږي ، خودا فعل حرام دی یعني دخپلي ښځي شیدې چیښل حرام دي بیا دي داسي نه کوي. فقط

دیوې ښځی شاهدی درضاعت دحرمت دپاره کافی نه ده: **سوال**: (۲۸۰) زینب په قسم وایی چی ماخالد ته شیدی ورکړیدی خوبل څه شاهد نسته داشاهدی به مقبوله وی اوکه یو مفتی یاقاضی په صورت مذکوره کی دتفریق بین الزوجین حکم وکی نودا به نافذ وی اوکه نه؟

جواب: په درمختارباب الرضاع کی دی: وحجة المال وهی شهادة عدلین اوعدل وعدلتین الخ اوپه شامی (۳) کی دی: وافاد انه لایثبت بخبر الواحد امرأة کان اورجلا قبل العقد

---

(۱) هدایه کتاب الرضاع ج۲ . ظفیر

(۲) دتفصیل دپاره وګوری رد المحتار باب الرضاع ص ۵۵۸ – ۵۵۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۱۴. ظفیر

(۳) ولم یبح الارضاع بعد مدته لانه جزء اٰدمی والانتفاع به لغیر ضرورة حرام علی الصحیح (الدرالمختار علی =

او بعده وبه صرح فی الکافي والنهایة تبعا لما فی رضاع الخانیة (۱) الخ. نوپه دی صورت کی دیوی ښځی قول معتبر نه دی اوحرمت به ثابت نه وی اوکه چا دتفریق حکم وکی نودا حکم صحیح نه دی دادی مات سی.

دیوی ښځی شاهدی یومنی اوبل یی نه منی فیصله وکړئ: **سوال:** (۲۸۱\) یوهلك اویوه انجلی چی بالغه وه په خپل مینځ کی په نکاح سوه اوددی عقد څخه دیارلس میاشتی وروسته دانجلی نومسلم میریزی مور بیان کوی چی مادی دواړو ته خپلی شیدی ورکړی او ددی واقعي خبر مي په وخت دنکاح کي دهلك او دانجلی نیکه اوکوچنۍ عمه ته کړی وو اودی تروړته می دنکاح څخه مخکی هم خبر ورکړی وو، اوس دانجلی پلار ددی دمیره مور خبره صحیح ګڼی اونکاح کالعدم ګرزوی اودهلك پلار ددی ښځی بیان خطا ګڼی اونکاح جائز ساتی اوداښځه دخپل بیان په تایید کی څه شاهد هم نه سی پیش کولی نوپه دی صورت کی نکاح قائمه ده اوکه نه؟ اودوی دواړه هم دشیدو دچښلو اقرار نه کوی.

جواب: په صورت مسئوله کی چی کله په ثبوت درضاعت شرعی ثبوت نسته او رضعین هم اقرار نه دی نوبیا صرف دیوی ښځی په ویلو دحرمت رضاعت ثبوت نه سی کیدی. ددواړو نکاح قائمه ده په کتابونو دفقه کی تصریح موجوده ده چی ثبوت درضاعت بی له دوو عادلانو سړیانو یا دیوه سړی او دوو ښځو دشاهدی څخه نه کیږی. کمافی الدر المختار: والرضاع حجة المال وهی شهادة عدلین اوعدل وعدلتین (۲).

کتبه عتیق الرحمٰن عثمانی. جواب صحیح دی، په دی صورت کی صرف دیوی ښځی په بیان سره به حرمت رضاعت ثابت نه وی اونکاح دزوجینو به قائمه وی. کتبه عزیز الرحمن مفتی دار العلوم دیوبند .

چی چا شیدی وچښلی اودده عمر دوه کاله یادوه نیم کاله دی نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۲۸۲\) دهندی دبچی عمر دوه کاله سو اوده شیدی پریښوولی هندی بل بچی ته شیدی ورکړی په دی دواړو کی رشته درضاعت قائمه سوه اوکه نه؟ اوکه بچی ددوو نیمو کالو سو اوهنده بل ماشوم ته شیدی ورکړلی نو رضاعت به قائم وی؟

جواب: هنده چی کم ماشوم ته شیدی ورکړلی که دهغه عمر ددوو نیمو کالو څخه زیات نه

= هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۵ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۲۱۱) مص رجل ثدی زوجته لم تحرم (ایضا ص ۵۲۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۵). ظفیر

(۱) وګوره ردالمحتار باب الرضاع ص۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص ۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۲۴. ظفیر

وی نودا ماشوم دهندی رضاعی زوی سو اودهندی اولاد ددی ماشوم رضاعی ورونه او خوندی سوی اوحرمتِ رضاعت ثابت سو (۱). فقط

دلسو کالو دکونډې تی یو ماشوم په خوله کی واخیستی او دی ته شیدی راغلی نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۸۳۱) دهندی مور مړه سوه نوپه موده درضاعت کی دهندی دشیدو دپاره یوه پردی ښځه مقرره سوه خودهندی انا (دپلار مور) دادځان سره بیده کوی چی دلسو کالو راهیسی کونډه ده دشپی چی کله دا ژاړی نوانا ددی په خوله کی خپل تی ورکوی، هفته وروسته چی دانا سینی لره زور ورکول سو نو دهغه څخه سپینی اوبه راووتی نوآیا په دی به حرمت درضاعت ثابت وی اودهندی نکاح به ددی دپلار دخوریی سره جائزوی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی کله دشیدو دراتلو اودهندی حلق ته په تللو کی شك دی نو حرمت به ثابت نه وی نودهندی نکاح به ددی دترور (عمه) دزوی سره جائز اوصحیح وی. په رد المحتار المعروف به شامی کی دقنیه څخه نقل کړیدی چی: امرأة كانت تعطي ثديها صبية واشتهر ذلك بينهم ثم تقول لم يكن في ثديي لبن حين ألقمتها ثدي ولم يعلم ذلك إلا من جهتها جاز لابنها أن يتزوج بهذه الصبية. آهـ وفي الفتح لو أدخلت الحلمة في الصبي وشكت في الارتضاع لا تثبت الحرمة بالشك. (۲) الخ شامی ص **۴۰۵** ج۲. فقط

انا (دمور مور) اقرار کوی چی لمسی ته می شیدی ورکړیدی نودده واده ددی دلمسی سره به کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۸۴۱) خلاصه دسوال داده چی شریفین نومی ښځه اقرار کوی چی ماخپل لمسی ته شیدی ورکړیدی ددی څخه ماسوا بل هیڅ شاهدی نسته نوداحمد علی نکاح دشریفین دلمسی حشمت بی بی سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په درمختارکی دی چی رضاعت ددوو عادلانو سړو یادیوه سړی اوددوو ښځو دشاهدی څخه ثابتیږی اوپه شامی کی دی چی په خبر واحد سره رضاعت نه ثابتیږی: والرضاع حجة المال وهی شهادة عدلین اوعدل وعدلتین الخ درمختار وفی الشامی وافاد انه لایثبت بخبر الواحد امرأة كان اورجلا الی ان قال لكن قال فی الخبر ان ظاهر المتون انه لایعمل به مطلقا فلیكن هو المعتمد فی المذهب (۳)، شامی جلد ثانی باب الرضاع. نوپه صورت مسئوله کی داحمد علی نکاح دحشمت بی بی سره صحیح ده.

---

(۱) ویثبت التحریم فی المدة فقط وهو حولان ونصف عنده وحولان فقط عندهما وهو الاصح. ط.س. ج۳ ص ۲۰۹ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص **۵۵۴** – **۵۵۵** ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۱). ظفیر

(۲) وګوری رد المحتار باب الرضاع ص **۵۵۲** – **۵۵۷** ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲. ظفیر

(۳) وګوری رد المحتار للشامی باب الرضاع ص **۵۲۸** ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

دزید خور چی کمی انجلۍ ته شیدي ورکړیدي نودهغه سره دزید نکاح جائزده اوکه نه؟

سوال: (۷۸۵) دهندی یوه لور زینب اویو زوی زید وو زینب صغر اته په ایامو درضاعت کې یودوه دری واره شیدی ورکړی، نواوس دزید نکاح دصغرٰی سره کیدی سی اوکه نه؟ که نکاح سوی وی نوبیا څه کول پکاردی؟

جواب: که دزینب صغرٰی ته شیدی ورکول په شرعی طریقه ثابت وی یعنی دوو عادلانو سړیو اویا یوسړی اوددوو ښځو عادلانو شاهدی کړی وی دشیدو ورکولو نو دزید نکاح دصغرٰی سره جائز نه ده اوکه نکاح سوی وی نوپه دوی کی دی تفریق وسی ځکه چی دزید رضاعی خورزه ده اوپه حدیث کی دی: چی څنګه دنسبی خورزی سره نکاح نارواه ده داسی درضاعی خورزی سره هم نارواه ده (ویحرم من الرضاع ما یحرم من النسب وفی الدرالمختار والرضاع حجة المال وهی شهادة عدلین وعدلتین الخ) اوپه شامی کی دی چی صرف دمرضعی قول دی په دی باره کی معتبر نه دی. ومافی شرح الوهبانیة عن النتف من انه لاتقبل شهادة المرضعة عند ابی حنیفة واصحابه الخ قال فی البحر بعد ذالك ان ظاهر المتون انه لا یعمل به مطلقا فلیکن هو المعتمد فی المذهب ([1]. شامی جلد ثانی باب الرضاع. فقط

چی یوهلک دچا دښځی شیدی وچښی نوددی هلک دښځی سره ددی سړی نکاح څنګه ده؟

سوال: (۷۸۶) په غیره کي اخیستی هلك زموږ دښځی شیدی وچښلی نوزموږ نکاح ددی هلك دښځی سره جائزده اوکه نه؟

جواب: چی کم ماشوم ستا دښځی شیدی چښلی دی هغه ستا رضاعی زوی سو نودده دښځی سره ستا نکاح صحیح نه ده ([2] کما فی الشامی وقوله تعالی وحلائل ابنائکم الذین من اصلابکم والحلیلة الزوج الخ وذکر الاصلاب لاسقاط حلیلة الابناء المتبنی لا لاحلال حلیلة الابن رضاعا فانها تحرم کالنسب بحر وغیره ([3] . فقط

چی چا دترور (عمه) شیدی وچښلی نودده ددی دلور سره نکاح جائزنه ده: **سوال**: (۷۸۷) دیو سړی واده دهغه داکا دعمه دلور سره مقرر سو خو وروستنه معلومه سوه چی هلك دخپلی ترور شیدی چښلی دی په دی خلګو دده مور او پلار پوه کړل خودوی ونه منله او ناصح ته یی رد اوبد وویل اوپه نکاح تیار سول اوطرفین رضا مندسوه نودانکاح جائز ده

---

[1] وګوری رد المحتار باب الرضاع ص ۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴۵. ظفیر

[2] ویثبت ابوة زوج وضعة اذا کان بسنها منه له والا لا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص ۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳). ظفیر

[3] رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۱. ظفیر

اوکه نه؟

جواب: که په حقیقت کی ده دترور شیدی چښلی وی نوددی دلور سره دده نکاح صحیح نه ده ([1]) خوپه صورت دانکار ددوو سړو یا ددوو ښځو اودیوه سړی په شاهدی به رضاعت ثابتیږی که شاهد نه وی نوحرمت به نه ثابتیږی.

درضاعی مور اوپلار دمیره مور سره نکاح حرامه ده: **سوال**: (۲۸۸\) درضاعی مور یا دپلار دمیره مور سره نکاح کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: په درمختار باب المحرمات کی دی: وزوجة اصله وفرعه مطلقا ولوبعید ([2]) الخ. اوپه باب الرضاع کی دی: فیحرم منه مایحرم من النسب ([3]) نوچی ځنګه دنسبی نیکه دښځی سره نکاح صحیح نه ده داسی درضاعی نیکه دښځی سره هم نکاح حرامه ده، او درضاعی مور یا دپلار دمیریزي مور هم دامطلب دی چی هغه درضاعی نیکه ښځه وی اودا صورت په هغه صورتونو داستثنٰی کی هم نه دی. قاعده: فیحرم منه ما یحرم من النسب کما لا یخفٰی. فقط

درضاعی وریری سره دده دورور نکاح جائز ده: **سوال**: (۲۸۹\) دزید رضاعی وریره دزید دنسبی ورور سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دزید رضاعی وریره دزید دورور دپاره حلاله ده. کمافی الدرالمختار: وتحل اخت اخیه رضاعًا یصح اتصاله بالمضاف کان یکون له اخ نسبی له اخت رضاعیة ([4]) الخ. نو معلومه سوه چی دنسبی ورور رضاعی خور حلاله ده نورضاعی وریره هم حلاله ده.

چی دکمی ترور شیدې دی وچښلې ددی دهغه دلور سره هم نکاح جائز نه ده چی کمه دبل خاوند ځخه ده: **سوال**: (۲۹۰) زید دخپلی تروړپه شیدو وپالل سو ددی ځخه وروسته دده دترور خاوند وفات سو اودده ترور دوهم واده وکی، اوددی ځخه یوه انجلۍ پیداسوه نو دزید نکاح ددغه انجلۍ سره چی ددوهم خاوند ځخه ده جائز ده اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کی دزید نکاح دترور ددغه لور سره صحیح نه ده چی کمه ددوهم خاوند ځخه پیداسوه ځکه چی دمرضعه تمام اولاد درضیع رضاعی وروڼه اوخوندی دی، اواخت رضاعی په قرآن کریم کی منصوص ده: واخواتکم من الرضاعة (سورة النسآء : ۲۴)

([1]) ویثبت به وان قل الخ امومیة المرضعة للرضیع الخ فیحرم منه مایحرم من النسب (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الرضاع ص ۵۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲). ظفیر

([2]) ایضا فصل فی المحرمات ص ۳۸۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۰. ظفیر

([3]) ایضا باب الرضاع ص۵۵۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۱. ظفیر

([4]) ایضا باب الرضاع ص۵۲۱ ج۱ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفیر

(۱) وفی الشعر المعروف: ازجانب شیرده همه خویش شوند۔ هکذا فی الدرالمختار۔

درضاعي لمسي نكاح دهغه انجلي سره جائزنه دي چي كمي ته دده دوهمي ښځي شيدي ورکړي وي: **سوال**: (۷۹۱) دزید دوې ښځې دی یوه زینب بله خاتون دزینبي څخه دزید لور ده خدیجه، بکر ته یې خپلې شیدی ورکړلی مذکور دخدیجه دبطن څخه نه دی صرف پنځه غړپه یی ورکړل اودزید دوهمی ښځی خاتونِ مریم نومی انجلۍ ته شیدی ورکړی مریم هم دخاتون دبطن څخه نه ده نودبکر نکاح دمریم سره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دامسلمه ده اوپه درمختار وغیره کی مصرح ده چی کمه ښځه یوماشوم ته شیدی ورکوی نوددی خاوند چی دچا څخه داشیدی دی ددی رضیع رضاعی پلارکیږی نوخاتون چی دغه انجلی مریم ته یې شیدی ورکړلی نودا دزید رضاعی لور سوه (۲) او دخدیجه رضاعی زوی چی بکر دی دمریم رضاعی خور سوه نوپه حکم د: ویحرم من الرضاع ما یحرم من النسب، دبکر مذکوره نکاح به دمذکوره مریم سره شرعا صحیح نه وی.

دخپلي مرضعه دلور سره نكاح جائز نه ده: **سوال**: (۷۹۲) یوسړی دیوی ښځی شیدی په مُده درضاعت کی وچښلي نوچی دکمی انجلی سره یی شیدی وچښلی ددی سره به دده نکاح جائز وی اوکه نه؟ اودنکاح شپږ میاشتی سویدی دامام شافعی په دی کی څه مذهب دی، که داحنافو مخالف دی نو دهغوی ددلائلو څه جوابات دي؟

جواب: په دی صورت کی حرمت درضاعت عند الاحناف ثابت دی اونکاح په مابین درضیع اودولد دمرضعه کی حرام اوناجائز ده: واستدلال الحنفیة بآیة: وامهاتکم اللاتي ارضعنکم، الایة معروف قال فی الشامی بعد نقل مذهب الشافعی والجواب أن التقدیر منسوخ صرح بنسخه ابن عباس وابن مسعود. وروي عن ابن عمر أنه قیل : له إن ابن الزبیر یقول لا بأس بالرضعة والرضعتین ، فقال قضاء الله خیر من قضائه. قال تعالی: وأمهاتکم اللاتي أرضعنکم وأخواتکم من الرضاعة ، (سورة النساء : ۲۴) فهذا إما أن یکون ردا للروایة بنسخها أو لعدم صحتها أو لعدم إجازته تقیید إطلاق الکتاب بخبر الواحد ، وهذا معنی قوله في الهدایة إنه مردود بالکتاب أومنسوخ به. ص۴۰۵ ج۲ شامی (۳) باب الرضاع ۔ فقط

---

(۱) ولا حل بین الرضیعة وولد مرضعتها ای التی ارضعته وولد ولدها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۷). ظفیر

(۲) ویثبت ابوة زوج اذا کان لبنها منه له والا لا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲ - ۲۱۳). ظفیر

(۳) رد المحتار باب الرضاع ص۵۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲. ظفیر

چې دکم لمسي دخپلي نيا (دپلار دمور) شيدې وچښلې نو دده نکاح جائز ده اوکه نه؟ سوال: (۲۹۳) دزيد دمخکنی ښځی څخه دوه زامن پيدا سول بيا داپه حکم الهی مړه سوه زيد بله نکاح وکړه دمخکنی ښځی دنس څخه يی چی کم دوه بچيان وه په هغه کی ديوه زوی پيداسو اودی هلك دزيد ددوهمی ښځی يعنی دميريزی انا شيدې وچښلې اوس زيد خپله دا لمسی دخپل کشر زوی کره واده کړه دانکاح شرعا جائز ده اوکه نه؟

جواب: چی کم لمسي دزيد ددوهمی ښځی شيدې چيښلی دی نودا دزيد او ددی ښځی رضاعی زوی سو اودده دزوی لور ددی هلك رضاعي وريره سوه، نودمذکور لمسی نکاح دزيد دکشر زوی دلور سره ناجائز ده په حديث پاك كي دي: يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب ([1]) الحديث ، يعني لكه څنګه چي دنسبي وريرې سره نکاح حرامه ده همدغه رنګه درضاعي وريرې سره هم نکاح حرامه ده ځکه نو ذکر سوي نکاح جائز نه ده، دوی يو دبل څخه جلا کول پکار دي. فقط

دنسبي ورور درضاعي لور سره نکاح جائزنه ده: سوال: (۲۹۴) دزيد واده دطلحه سره وسو دزيد ښځی طلحه خپلی خور صابری ته شيدی ورکړلی، طلحه مړه سوه، زيد دطلحه ددوهمی خور هاجره سره نکاح وکړه اوس سوال دادی چی دصابری واده دزيد دسکه ورور سره کيدی سی اوکه نه؟

جواب: دبکر واده دصابری سره نسی کيدی ځکه چی صابره دبکر رضاعی وريره ده او رضاعی وريره په شان دنسبی وريری حرامه ده. فيحرم منه اي بسببه ما يحرم من النسب ([2]) والله اعلم

درضاعي پلا موطوئه حرامه ده اوکه حلاله؟ سوال: (۲۹۵) درضاعی پلار موطوئة حرامه ده اوکه حلاله داحنافو فتوٰی څه ده؟

جواب: قال في الرد المحتار قوله ما يحرم من النسب معناه أن الحرمة بسبب الرضاع معتبرة بحرمة النسب ، فشمل زوجة الابن والأب من الرضاع لأنها حرام بسبب النسب فكذا بسبب الرضاع ، وهو قول أكثر أهل العلم ، كذا في المبسوط بحر الخ ([3]) وفي الهداية وامرأة أبيه أو امرأة ابنه من الرضاع لا يجوز أن يتزوجها كما لا يجوز ذلك من النسب لما روينا وذكر الأصلاب في النص لإسقاط اعتبار التبني على ما بيناه الخ ([4])

([1]) وګورئ: مشکوٰة المصابيح باب المحرمات ص۲۷۳. ظفير
([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفير
([3]) رد المحتار باب الرضاع ص ۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفير
([4]) هدايه کتاب الرضاع ص ۳۱۰ ج۲. ظفير

الخ وهکذا فی اکثر الکتب. نو معلومه سوه چي درضاعی پلار موطوئة که په نکاح وی اوکه په حرامه، دفقه معتبرو کتابونو دیته حرام ویلی اوهمدا اکثره دفقهاوو دامت او دنص قطعی مقتضا ده. ولا تنکحوا ما نکح ابآءکم (۱)، (درضاعي پلار دموطوئة سره نکاح حرامه ده، ظفیر). فقط

په دهوکه سره په شیدو چښلو باندې هم حرمت ثابتیږي: **سوال**: (۲۹۶/۱) یوه ښځه بیان کوی چي یووار زما دورور لور په بی خبری کی زما غیږی ته راغله اوزما شیدی یی وچښلی چي کله ماته معلومه سوه چي دازما دورور لور ده اوزما زوی نه دی نوما دا دخپلی غیږی څخه لیری کړه ددی انجلی سره زما دزوی نکاح شرعا کیدی سی اوکه نه؟

جواب: چي کله ددی ښځی دورور لور دشیدو په عمرکی ددی شیدی وچښلي نودا انجلی ددی رضاعی لور سوه اوددی دزوی رضاعی خور سوه اونکاح ددی دواړو په خپل مینځ کی حرامه ده ځکه چي حدیث کی دی چي کمه رشته په نسب حرامه ده هغه په رضاع هم حرامه ده. کما ورد یحرم من الرضاع مایحرم من النسب، (۲) قال الله تعالی: واخواتکم من الرضاعة (۳) البته داضروري ده چي ثبوت درضاعت په صورت دثانی فریق دانکار کی صرف دښځی په بیان به نه کیږی بلکی دثبوت دپاره ددوو عادلانو سړو یادیوه سړی او ددوو ښځو شاهدی ضروری ده: کما فی الدرالمختار وحجة المال وهی شهادة عدلین او عدل وعدلتین. (۴) فقط

دلاندینی عبارت مطلب : **سوال**: (۲۹۷/۱) دلاندینی عبارت څه مطلب دی؟ چي ثبوت درضاعت په صورت دانکار دثانی فریق دښځی په بیان به نه کیږی بلکی ددی دثبوت دپاره شاهدی ددوو سړو عادلانو یادیوه سړی اوددوو ښځو ضروری ده دفریقِ ثانی څخه څه مراددی اوانکار به څنګه وی اوشاهدی دسترګو مراددی اوکه داوریدو آیا سماعی شاهدی هم معتبره ده؟

جواب: دفریقِ ثانی څخه مراد په دی صورت کی چي تالیکلی وو داکیدی سی چي څوك دشیدو ورکولو اقرار نه کوی مثلا ددی ښځی ورور چي دهغه لورته دادشیدو ورکولو دعوٰی کوی که دی ووایي چي زه دانه منم نوبغیر ددوو سړیو عادلانو څخه یادیوه سړی او ددوو ښځو دعینی شاهدی څخه بغیر به حرمت درضاعت ثابت نه وی دارکم په بعضو

---

(۱) سورة النساء: رکوع ۴. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص ۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر
(۳) سورة النساء رکوع ۴. ظفیر
(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

ځایونو کی فریق ثانی خاوند کیدی سی مثلاً دزید نکاح دهندی سره سویده اودوی دواړه (ښځه اوخاوند) په اتفاق سره دي، ناڅاپه یوه ښځه راغله اووی ویل چی ماتاسی دواړو ته شیدی درکړی وی تاسی دواړه ورور اوخور سواست نونکاح موصحیح نه ده نو په دی صورت کی که دازید ونه منی اویایی دواړه ونه منی نوصرف دیوی ښځی په ویلو سره به حرمت رضاعت ثابت نه وی اوتفریق به په دوی کی لازم نه وی بلکه اصل خودادی چی که څوك هم فریق ثانی نه وی بیاهم مسئله داده چی صرف دیوی ښځی په قول حرمت درضاعت نه ثابتیږی اوسماعی شاهدی هم معتبره نه ده چی کله شاهد داتصریح وکړی چی موږ اوریدلی دی چی فلانی ښځی فلانی ماشوم ته شیدی ورکړلی البته که دی داوریدو تصریح هم ونه کی اونه ووایی چی موږ لیدلی وه بلکی صرف داشاهدی ورکړی چی فلانی ښځی فلانی بچی ته شیدی ورکړیدی اوحاکم وغیره اوریدونکی دشاهدی څه حرج ونه کړی نوددوی شاهدی معتبره کیدی سی اوکه حاکم تحقیق وکړی اوپوښتنه وکړی چی آیا تالیدلی دی اوشاهد ووایی چی نه موږ نه دی لیدلی بلکی اوریدلی مودی نوبیا ددوی شاهدی به معتبره نه وی، قاضی خان اوعالمگیری معتبر کتابونه دفقه دی خوداکیدی سی چی یوه مسئله په دی کتابونو کی مختلف فیها وی چی په دی کی ددی روایت خلاف بل روایت راجح وی لکه په همدی مسئله درضاعت کی دفتاوٰی قاضیخان وغیره دبعضو روایتونوڅخه دامعلومیږی چی دیوی ښځی په شاهدی په بعضوصورتونو کی حرمت درضاعت معتبر کیدل ثابتیږی، صاحب دبحر الرائق دارد کړیدی اوداحنافو صحیح مذهب یی ددی خلاف نقل کړیدی اودایی راجح گرځولی دی لکه چی شامی دقاضی خان مذکوره عبارت نقل کوی اولیکی: لکن قال فی البحر بعد ذالك ان ظاهر المتون انه لایعمل به مطلقا فلیکن هو المعتمد فی المذهب قلت وهو ایضا ظاهر کلام کافی الحاکم الذی هو جمیع کتب ظاهر الروایة (۱) . فقط

دښځی درضاعی زوی دښځی سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۲۹۸) زید بکر متبنٰی کی او دزید ښځه چی وچه وه په مده درضاعت کی یی بکر ته شیدی ورکړی نودبکر دمرگ څخه وروسته زید دبکر دښځی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: که دزید دښځی کله هم دزید څخه بچی نه وی پیدا سوی اودزید ښځه همیشه داسی شنډه وی اودا شیدی په سبب دولادت دزید څخه نه وی نو ددی شیدو نسبت زید ته نه کیږی یعنی که یو ماشوم په موده درضاعت کی دزید دښځی شیدی وچښی نودی

(۱) رد المحتار باب الرضاع ص ۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

به دزید رضاعی زوی نه وی اوچی کله داهلك دزید رضاعی زوی نه سو نو دده دښځی سره دزید نکاح صحیح ده ځکه چی دزیات څخه زیات دی دده دښځی رضاعی زوی دی او داوجه دحرمت نه ده ځکه چی درببب ښځه حرامه نه ده [1]. فقط

اوازه ده چی فلانی دفلانی شیدی وچښلی نو په دی سره به حرمت رضاعت ثابت وی اوکه نه؟

سوال: (۶۹۹) داخبره بغیر دیوه په سترګو لیدنکي شاهد څخه صرف یوسړی افواهًا بیانوی چی دخوب په حالت کی دسلمه لور دهندی شیدی وچښلی په دی حالت کی دسلمه دلور عقد دهندی دزوی سره کیدی سی اوکه نه؟ خوددی یوسړی دشاهدی نه بل څوك سړی اونه څوك ښځه تصدیق کوی اوسلمه اوهندی دواړی مړی سویدی؟

جواب: درضاعت دثبوت دپاره پوره شرعی شاهدی ضروری دی یعنی دوه عادل سړی یا یو سړی اوددوو ښځو معتبرو په شاهدی سره رضاعت ثابتیږی. کذا فی الدرالمختار [2] صرف دیوه یوه سړی په بیان سره حرمت درضاعت نه ثابتیږی ددی وجه دسلمه دلور عقد دهندی دزوی سره صحیح دی. فقط

بوډی ښځی بچی سینی ته واچوی اوددی څخه اوبه راغلی نوحرمت به وی اوکه نه؟ سوال: (۷۰۰) دهندی سکه انا خپل لمسی زید دشیدی رودلو په عمر کی خپلو تیانو ته واچوی سره ددی چی دا آئسه وه دوه څلور څاڅکی په شان داوبو ځینی راغله اوبچی په آرام سو اوس ددې هلك زید نکاح ددغه سکه انا هنده دسکه زوی دلور سره کیدی سي اوکه نه؟ کمه چي دده درضاعی ورور لور ده؟

جواب: په دی صورت کی ددی شیدی رودنکی هلك نکاح دمرضعه ددوهمی لمسی سره صحیح نه ده ځکه چی دې لمسی که څه هم چی دانا شیدی لږ څاڅکی ددې حلق ته تللی دی ددی رضاعی زوی پیداسو اوددی بل زوی لور دده رضاعی وریره سوه نوپه حکم د: ویحرم من الرضاع مایحرم من النسب. نکاح صحیح نه ده بلکی حرامه ده اوپه درمختار کی دی: ویثبت به وان قل ان علم وصوله لجوفه من فمه اوانفه [3] الخ وفیه ایضا ولاحل بین الرضیعة وولد مرضعتها الخ وولد ولدها الخ لانه ولد الاخ . [4] فقط

---

[1] ویثبت ابوة زوج مرضعة اذا کان لبنها منه له والا لا کما سیجئ (درمختار) المراد به اللبن الذی نزل منها بسبب ولادتها من رجل زوج اوسید (رد المحتار کتاب الرضاع ص۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲ و۲۱۳).

[2] والرضاع حجته حجة المال وهي شهادة عدلین او عدل وعدلتین لکن لا تقع الفرقة الا بتفریق القاضي (درمختار) وافاد انه لا یثبت بخبر الواحد امرأة کان او رجلاً قبل العقد او بعده وبه صرح في الکافي والنهایة (رد المحتار باب الرضاع ص ۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴). ظفیر

[3] الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۲ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۲۱۲. ظفیر

[4] ایضاً ص۵۲۱ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۲۱۷. ظفیر

په کاچوغه کی یی شیدی واچولی اوباندی وی چښلی نورضاعت به ثابت وی اوکه نه؟ سوال:
(۷۰۱) دمریم مور زید خپلی سینی ته واچوی خوده دسینی څخه شیدی ونه چښلی خو چی کله دمریمی مور په کاچوغه کی شیدی راوایستی نووی چښلی په داسی صورت کی آیا دزید دمریم سره نکاح کیدی سی اوکه نه؟
جواب: چی کله زید دمریمی دمور شیدی وچښلی که دسینی څخه وی اوکه په کاچوغه کي دزید په حلق کی واچول سي نوزید دمریم رضاعی زوی سو اودمریم رضاعی ورور نوپه قول دنبي مبارك ﷺ : یحرم من الرضاع مایحرم من النسب ([1]) دزید اودمریمی نکاح په خپل مینځ کی حرامه ده. قال الله تعالیٰ: واخواتکم من الرضاعة (سورة النساء : ۲۴). وفی الدرالمختار والحق بالمص الوجور ([2]) الخ . فقط

میریزی وورورته یی شیدی ورکړلی نوآیا دده دلور سره دخپل زوی نکاح کولی سی؟ سوال:
(۷۰۲) **۱**. هنده خپل میریزی ورور خالد ته په موده درضاعت شیدی ورکړې دهندی څخه زید پیداسو اودخالد لور زینب پیداسوه نو دزید نکاح دزینب سره صحیح ده اوکه نه؟
په بی خبری کی عقد وسو نوڅه حکم دی؟ ۲. په صورت مذکوره کی که په بی خبری کی عقد وسی نوڅه حکم دی دتفریق ضرورت سته اوکه په خپله جلا کیدی سی؟
که په صورت مذکوره کی دخلوت څخه وروسته تفریق وسی نوڅه حکم دی؟ ۳. په صورت مذکوره کی که ددخول اودخلوت څخه وروسته تفریق وسی نودخاوند پرذمه څه واجب دی؟
که دخلوت څخه مخکی تفریق وسی نوڅه حکم دی؟ ۴. که قبل الدخول والخلوة تفریق وسی نوپر ښځي عده سته اوکه نه پرتقدیرِ اول په میاشتو به عده وی اوکه په حیضونو؟
په دی نکاح کی چی کم بچی پیداسو دهغه دنسب څه حکم دی؟ ۵. که دعقد مذکور څخه وروسته خاوند دخول کړی وی اوعلوق پیداسو نوثابت النسب به وی اوکه نه ولد الزنا؟
۶. دحرمت رضاعت داسی څه جامع علت بیان کړی چی کم ځای دده وجود وی هلته به حرمت متحقق سی؟
جواب: (۱) نکاح دزید دزینب سره شرعًا حرامه ده اودشعر مشهور زجانب شیرده الخ څخه حرمت دنکاح مذکور ثابت دی اودحدیث: یحرم من الرضاع مایحرم من النسب ([3]) سره هم دمذکوره نکاح حرمت ثابتیږی اوپه درمختار کی دی: ولاحل بین الرضیعة وولد مرضعتها ای التی ارضعتها وولد ولدها لانه ولد الاخ ([4]) الخ .

([1]) و([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر
([2]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۴ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۲۰۹. ظفیر =

(۲) تفریق ضروری دی اومتارکت کول کافی دی چی خاوند یی جلا کړی بس په دې سره به تفریق وسی.
۳. په صورت ددخول اودخلوت مهر مثل لازم دی اوپه صورت دعدم دخول اوخلوت هیڅ هم نسته.
۴. په قبل الدخول تفریق کی عده لازمه نه ده اوبعد الدخول عده لازمه ده اودحائضه دپاره دری حیضه دی.
۵. نسب به ثابت وی. کذا فی الشامی.
۶. مذکوره حدیث: یحرم من الرضاع مایحرم من النسب ([1]) اودفارسی مشهور شعر په باره دحرمت درضاعت کی قاعده کلیه ده.

چی کم هلک شیدی نه دی چښلی دهغه نکاح جائزده: **سوال**: (۷۰۳) زینب اواحمد علی سکه ورور خور دی داحمد علی لور اودزینب زوی پیداسو چی دوی دقاعدی مطابق دتی شخه پری سوه، دتی شخه دپری کیدو شخه اته نه میاشتی وروسته زینب خپلی شیدی دورور زوی احمد علی ته ورکړی، دایاد نه دی چی شیدی راغلی وی اوکه نه څو واره دماشوم په خوله کی دتی ورکولو اتفاق وسو خودشیدو راتلو یادنه راتلو هیڅ چاته یقین نسته اوس دزینب هلك پیداسو نوداحمد علی دلور زینب ددی زوی سره داحمد علی دلور نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: داحمد علی ددی لور چی دزینب شیدی یی نه دی چښلی نکاح دزینب دزوی سره په هرحال صحیح ده که داحمد علی مخکنی زوی دزینب شیدی چښلی وی اوکه نه یی وی چښلی کما فی الدرالمختار. وتحل اخت اخیه رضاعًا الخ ([2]). فقط

دضعیفه شیدی چی کمی انجلی چښلی دی دهغې واده دضعیفه دلمسی سره صحیح دی او که نه؟ **سوال**: (۷۰۴) دزید ښځی زانه په بوډی توب کی چی تقریبا دشلو کالو راهیسی ددی اولاد نه دی پیداسوی یوې پردۍ انجلی ته صرف دمیني په ډول خپل تیان په خوله کی ورکول څو ورځی وروسته په تیانو کی شیدی راغلی او ددی انجلی ترڅه مودی پوری په دی شیدوپالنه وسوه ددی انجلی عقددمرضعه دلمسی سره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دمرضعه دلمسی نکاح ددغه رضیعه انجلی یعنی دشیدو رودونکی سره صحیح نه ده ځکه چی دارضیعه دمرضعه دلمسی ترور سوه یعنی دپلاریی رضاعی خور سوه، او

([4]) ایضا ص۵۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفیر
([1]) ایضا ص۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر
([2]) ایضا ص۵۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفیر

مسئله داده: یحرم الرضاع مایحرم من النسب ([1]). فقط

چې دکمې کونډې سره نکاح کول غواړي هغې وویل ماته داسې یادیږي چې ما ستا دمور شیدې چښلې دي څه حکم دي؟ سوال: (۷۰۵\) یو سړي دکونډې ښځې سره نکاح کول غواړي نوسړي دخپلې خور په ذریعه دي کونډې ته دنکاح په باره کې وویل، دې جواب ورکې چې ما یووار دده دمور شیدې چښلې دي اوشاید په خپله دده مور ماته ویلي وو چې ستامور یووخت بیده وه اوتا ژړل نوما ستاپه خوله کې شیدې درکړې اودبل چا څخه ماته داخبره معلومه نه سوه اودمذکوره کونډې څخه په پوښتنې کولو سره دې وویل کیدی سی چې زما غلطي وي دبل چاپه باره کې یې ویلي وي اوماته دایاد پاته سوي وي دېنځه ویشتو دیرشو کالو خبره ده، ددې سړي څوورځې وروسته بیان وکې چې دډېر غور څخه وروسته ماته هم څه خیال کیږي چې دی کونډې ښځې ماته هم داخبره کړې وه خوپه شك مې داخیال راځي پوره راته یاد نه دی؟

جواب: چې په دې صورت کې شرعي شاهدي یعنې دوه سړي یا یوسړي اودوه ښځې شاهدي دشیدو ورکولو نه کوي نوشرعًا حرمت رضاعت ثابت نه دی اودا کونډه ښځه ددې سړي رضاعي خور نه کیږي اوپه شبه رضاعت نه ثابتیږي نوپه فتوٰی اوپه حکم دشریعت ددې سړي ددې کونډې سره نکاح صحیح ده خوکه داسړي ددې ښځې ددې په باره کې تصدیق وکې نواحتیاط دادی چې ددې سره نکاح ونه کړي اوکه سړي تصدیق نه کوي اوښځې ته هم دسړي دمور قول پوره یادنه دی اوکه یادهم وي نودا صرف دیوې ښځې قول دی نوپه دې حالت کې حرمت درضاعت نه ثابتیږي اونکاح صحیح اوجائزده. قال فی الدرالمختار وحجة المال وهی شهادة عدلین اوعدلتین ([2]) الخ. فقط

چې چا دانا شیدې وچښلې دهغه نکاح دترور دلور سره جائزنه ده: سوال: (۷۰٦\) یوسړي په موده درضاعت کې دخپلې اناشیدې چښلې دي نوآیا ددې سړي دترور دلور سره نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې داکا لور دشیدو رودونکې خورزه سوه رضاعي، اوچې کله دسکه خورزې سره نکاح حرامه ده همداسې درضاعي خورزې سره هم حرامه ده، حدیث پاك دی: یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب، ([3]) نونکاح ددې سړي چې هغه دخپلې انا شیدې چښلې دي دترور دلور سره صحیح نه ده ځکه چې دا دده رضاعي خورزه ده. فقط

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص ۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص ۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

([3]) ایضا ص ۵۵۷ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر

صرف شيدي وركوونكي وايي اوشاهد نسته څه حكم دي؟ سوال: (۷۰۷) صرف دښځي په ويلو باندې چې ما دزيد پرلور دخپل بچي خيال کې اوپه غلطي مي دده په خوله کې شيدې ورکړلي نورضاعت ثابتيږي اوکه نه بل څوك ددې واقع شاهد نسته اوپه دې واقعه کې قضاءاً وديانةً به څه فرق وي اوکه نه؟

جواب: صرف دښځي په وينا چې ما فلاني بچي ته شيدې ورکړيدې حرمت درضاعت به نه ثابتيږي اوبغير دشاهدت نامه څخه حرمت رضاعت نه ثابتيږي لکه چې صفا عبارت ددرمختار اودشامي دی. قال في الدرالمختار: والرضاع حجة المال وهي شهادة عدلين اوعدل وعدلتين الخ وقال في الشامي وافاد انه لايثبت بخبر الواحد امرأة كانت اورجلا قبل العقد اوبعده وبه صرح في الكافي والنهاية تبعا لما في رضاع الخانية الخ الى ان قال لكن قال في البحر بعد ذالك ان ظاهر المتون انه لايعمل به مطلقا فليكن هو المعتمد في المذهب [1] الخ. نومعلومه سوه چې صحيح اومفتٰى به داده چې دښځي په قول سره حرمت رضاعت نه ثابتيږي اودصحيح قول مطابق ديانةً اوقضاءاً ديوی ښځي په قول سره حرمت رضاعت نه ثابتيږي. فقط

چي په كم نيت سره يي هم په مده درضاعت کي شيدي ورکړلي حرمت به ثابت وي: **سوال**: (۷۰۸) كلثوم اوزينب حقيقي خوندې دي دكلثوم زوی پيدا سو اونه مياشتی وروسته مړ سو دزينب لور چې دهغې عمر يوكال اودری مياشتی وو صرف درې واره دكلثوم شيدې يې وچيښلې، تردرو ورځو پوری يووار ددې شيدې يې وزيبښلي وجه داوه چې تكليف ليری سي دشيدو وركولونيت نه وو دابيان صرف دزينب دی اوكلثوم مړه سوه آيا دكلثوم دزوی واحد سره دزينب دلور چې دې دكلثوم شيدې چښلي دی نكاح صحيح ده اوكه نه؟

جواب: مسئله داده چې دمرضعه ټول اولاد درضيع وروڼه خوندې كيږي اوټول حراميږي [2] لكه چې مشهور شعر دی: ازجانب شيرده همه خويش شوند. الخ نوكه داثابته اومعلومه اومعروفه سی چې دزينب لور دكلثوم شيدې چښلي دی كه څه هم يووار اوكه څه هم قصد دشيدو چښلو يې نه وی نودكلثوم ديوه زوی سره هم دزينب دلور نكاح نه سی كيدی نه دواحد سره اونه دبل سره. فقط

چي كم هلک ستا دمور شيدي چښلي دي دهغه سره دخپلي لور نكاح نه سي كولي: **سوال**: (۷۰۹) زما خوريي خليل زما څخه دكشرى خور باقيمانده شيدې زما دمور چښلي دی

---

[1] وگوری رد المحتار باب الرضاع ص ۵۲۸ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفير

[2] ولا حل بين الرضعية وولد مرضعتها اي التي ارضعتها وولد ولدها لانه ولد الاخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۷). ظفير

اوس زه دخلیل واده دخپلی لور سره کول غواړم جائزدی اوکه نه؟

جواب: کله چی خلیل ستا دمور شیدی وچنبلی نودی ستا رضاعی ورور سو نوستا لور دخلیل رضاعی وریره سوه نودمذکوره خلیل نکاح ستا دلور سره جائزنه ده، حدیث پاك دی. یحرم من الرضاع مایحرم من النسب (۱) الحدیث . فقط

شیدی چښل ثابت دی خودا ثابت سو درضاعت دمودی څخه وروسته څه حکم دی؟ سوال: (۷۱۰) زید دعائشی سره نکاح وکړه دنکاح څخه وروسته عائشی دعوه وکړه چی دازید زما رضاعی ورور دی اوڅلورو شاهدانو په خپله دشیدو چښلو لیدلو شاهدی ورکړه او دوو بیان وکی چی زید زمونږ په مخکی درضاعت اقرار کړیدی او زید جواباً دعوه کوي او وایي چي زه دوخت درضاعت څخه وتلی وم اوپه دی یی څلور شاهدان تیر کړل په دی صورت کی حرمت درضاعت ثابتیږی اوکه نه؟

جواب: په رد المحتار کی داقوالو دنقل کولو څخه وروسته وایی: قلت وجه ذالك ان الرضاع لما کان مما یخفی لانه لا یعلمه الا بالسماع من غیره لم یمنع التناقض فیه لاحتمال انه لما اقرَّ به بناء علی ما اخبر به غیره تبین له کذبه فرجع عن اقراره (۲) الخ ص ۴۱۲ جلد ۲ کتاب الرضاع، نوپه اقرار درضاعت کی اول خو دانه وو چی په موده درضاعت کی یی شیدی چنبلی دی دارنګه دشیدو چښلو په لیدلو او شاهدی کی هم دا بیان نسته چی داشیدی په موده درضاعت کی وي ددی وجه څخه شاهدی دسړی چی دا شیدی چښل درضاعت دمدت څخه وروسته وي دمخکنی شاهدی او داقرار منافی او معارض نه دی ددی وجه څخه شاهدی دزوج به معتبره وی اونکاح به باطله نه وی.

یوی ښځی چی کله یوی انجلی ته شیدی ورکړی نوددی سره دهغه دزوی نکاح صحیح نه ده چی کم ددوهمی ښځی څخه دی: **سوال**: (۷۱۱) دیو سړی دوی ښځی دی محل اولی ومحل ثانی. محل اولی یوپردی انجلی نوابي ته شیدی ورکړي څه موده وروسته دمحل ثانی ابن پیدا سو او دنوابي لور پیدا سوه ددی دواړو شرعا عقد جائزدی اوکه نه؟

جواب: دنوابي لور دمحل ثانی دزوی رضاعی خورزه ده ددی وجه څخه ددی هلك دنوابي دلور سره نکاح صحیح نه ده. لقوله ﷺ یحرم من الرضاع مایحرم من النسب (۳). فقط

مشری خور کشری خورته شیدی ورکړی نو ددواړو داولاد په خپل مینځ کی واده کول جائزنه دی: **سوال**: (۷۱۲) مشری خور کشری خورته چی کله دا دیوه کال وه څو واره خپلی

(۱) وګوری رد المحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر
(۲) رد المحتار باب الرضاع ص۵۷۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر
(۳) ایضا ص۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر

شیدی ورکړی چی دهغه دری چشم دید شاهدان موجود دی چی په قسم اوپه قرآنکریم وایی چی مورِ په خپلو سترگو داپه شیدو ورکولو لیدلی ده نواوس دکشری اودمشری خور داولاد په خپل مینځ کی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: چی کله دمعتبرو شاهدانو دا امر ثابت دی چی مشری خور دشیدو رودلو په عمر کی کوچنی خور ته شیدی ورکړیدی نووړه خور دمشری خور رضاعی لور سوه اودمشری خور اولاد دکشری خور ورونه اوخوندی سوه نودکشری خور داولاد دمشری خور داولاد سره نکاح شرعًا صحیح نه ده، کذا فی کتب الفقه (۱). فقط

<u>دعینی ورور درضاعی لور دلور سره نکاح</u>: **سوال**: (۷۱۳) یوجاهل عامی سړی قاسم علی موافق دحنفی مذهب دمولوی عبدالرزاق څخه ددی مسئلی په باره کی فتوٰی طلب کړه چی زه دخپل عینی ورور دلور رضاعي لور په خپله په نکاح کی راوستی سم اوکه نه؟ مولوي صاحب مذکور شپیته اویا روپی واخیستی اوسمدستی یی فتوٰی ورکړه چی تاته دابی شکه حلاله ده ته بلا تامل اوتاخیر دامذکوره ښځه خپل په نکاح کی راوله، مولوی محمد لقمان ددی نکاح دجواز په ردکی مدلل اومفصل فتوٰی ولیکله په دی صورت کی څه حکم دی دانکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دعینی ورور دلور درضاعی لور دنکاح په باره کي دمولوی عبد الرزاق دجواز فتوٰی باطله اوخطا ده. بنات الاخ وبنات الاخت. چی څنگه نسبی حرام دی داسی رضاعی هم حرام دی. لقوله ﷺ یحرم من الرضاع مایحرم من النسب (۲) اودا حنفیه اوشافعیه ټول منی صاحب دخازن چی شافعی المذهب دی هغه درضاعی وریری حرمت منی اوچی رضاعی وریره حرامه ده نودوریری لور هم حرامه ده لکه چی په تفسیر خازن کی دحدیث مذکوره دنقل څخه وروسته دحمزه ؓ دلور دحرمت حدیث: فکل من حرمت بسبب النسب حرم نظیرها بسبب الرضاعة، هم نقل کړیدی، (۳) ددی څخه معلومه سوه چی دشافعیه په نزد هم درضاعی وریره دلور سره هم نکاح حرامه ده نومعلومه سوه چی فتوٰی دمولوی عبدالرزاق باطله ده اوفتوٰی دمولوی محمد لقمان صاحب صحیح اوموافق دکتاب اوسنت ده اوپه احنافو تقلید دخپل امام لازم دی اوپه مذکوره صورت کی که دیو مذهب خلاف هم وی نوپه دی عمل صحیح نه دی. فقط

---

(۱) حرم بسبب الرضاع ما حرم بسبب النسب قرابة وصهرية ولوکان الرضاع قليلا لحديث الصحيحين المشهور يحرم من الرضاع مايحرم من النسب (البحر الرائق کتاب الرضاع ص ۳۳۸ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۲۲۲). ظفير

(۲) وگوری البحر الرائق کتاب الرضاع ص ۲۳۸ ج۳ ، ط.س. ج۳. ص ۲۲۲، ظفير

(۳) وگوری تفسير خازن المسمٰی بلباب التاويل. ظفير

بچي چي دكمي ښځي شيدې وچيښلي ددغه بچي سره دخپلي لمسي نكاح نه سي كولي:
سوال: (۷۱۴) يو تي رودونكي بچي چي دهغه عمر څلور مياشتي اويو كال دی مور يې مړه سوه اودده انا به خپل تي په ده رودی څلور مياشتي وروسته دې ته شيدې راغلي او بچي به برابری شيدی هم چښلي اوس هلك ځوان دی مرضعه خپله لمسۍ دی رضيع هلك ته په نكاح كول غواړي آيا حرمت درضاعت ثابت دی اوكه نه؟
جواب: دمرضعه لمسۍ ددی هلك رضيع وريره سوه نوپه قاعده د: يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب (۱) نكاح ددی رضيع دمرضعه دلمسۍ سره حرامه اوناجائز ده، اوزيلعي چي دخصاف څخه كم قول نقل كړيدی هغه يې په درمختار اوشامي كی ردكړيدی، په در مختار كی دی: ويثبت التحريم في المدة فقط ولو بعد الفطام والاستغناء بالطعام على ظاهر المذهب وعليه الفتوى، فتح وغيره، قال المصنف في البحر فما في الزيلعي خلاف المعتمد لأن الفتوى متى اختلفت رجح ظاهر الرواية الخ قوله: لان الفتوى الخ ولان اكثرين على الاول اي على الحرمة كما في النهر. (۲) فقط

چي كمي غير مسلمي انجلي ته يوی ښځي شيدی وركړلي ددی ښځي دوړور واده ددی انجلي سره جائزدی اوكه نه: **سوال:** (۷۱۵) زيد اوهنده سكه ورور اوخور دی هنده په مدت درضاعت كی يوې غير مسلمي انجلۍ ته شيدی وركړې څه موده وروسته زيد دا انجلي مسلمانه كړه اونكاح يې ورسره وكړه اودشيدو چښلو حال صحيح معلوم نه وو اوس چي كله پنځه شپږ بچي پيدا سوه په مينځ دخبرو كی معلومه سوه په خوله دهندی چي دی انجلي ته خوما هم شيدی وركړيدی دهندی داشاهدی مقبوله ده اوكه نه؟ اودا نكاح چي جائزنه وی نوجدايي به څنګه كيږي اودبچو نفقه پرچا ده؟ اوولی څوك دی؟ او دتفريق دپاره دقاضی كيدل ضروری دی اوكه نه؟ اوكه ښځه اوخاوند يې نه مني نوڅه به كوو؟
جواب: په درمختار كی دی: والرضاع حجة المال وهي شهادة عدلين اوعدل وعدلتين (۳) ددی عبارت څخه واضحه ده چي په صورت دانكار دښځي اوخاوند صرف ديوی ښځي مرضعه په قول سره حرمت درضاعت به نه ثابتيږي اونكاح به صحيح وی اوثابت النسب به وی او وراثت به په دوی كی جاري وی اونفقه داولاد اودښځي به ددغه سړي ناكح پر ذمه وی خوكه ښځه او خاوند ددی مرضعه تصديق وكی نوحرمت به ثابت سی اوپه دوی

---

(۱) البحر الرائق كتاب الرضاع ص ۲۳۸ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۲۲۲. ظفير
(۲) وګوری رد المحتار باب الرضاع ص ۵۵۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲. ظفير
(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ص ۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفير

کی به تفریق وسی یعنی هلته چی دوی اقرار کوی نو په خپله به جلاسی دقاضی دتفریق ضرورت په دی کی نسته په شامی کی دهندیی څخه نقل دی: تتزوج امرأة فقالت امرأة ارضعتکما الخ ان صدقاها فسد النکاح ولا مهر ان لم یدخل (۱) الخ . فقط

چی کمې انجلۍ ته دسړي یوې ښځې شیدې ورکړې نوددې سره دهغه زوی چې دبلې ښځې څخه دی نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۷۱۶) دیوسړي دوی ښځی دی نصیبن اومردان دې نصیبن یوی پردی انجلی ته شیدی ورکړی نودمردان دزوی نکاح ددی رضیعه انجلی سره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: چی کله دی انجلی دسړی دیوی ښځی شیدی وچیښلی نودا انجلی چی څنګه دشیدی ورکوونکی ښځی رضاعی لور سوه داسی ددی دخاوند هم رضاعی لور سوه او دبلی ښځی څخه چی ددی سړی زوی دی هغه ددی انجلی رضاعی ورور سو نوپه دوی کی نکاح صحیح نه ده (۲). فقط

ورور دخور شیدې وچښلې نو ددوی دواړو په اولادکی به نکاح صحیح وی اوکه نه؟ سوال: (۷۱۷) زید یوماشوم دی هنده دده سکه خور دشلو پنځه ویشتو کالو ده اوواده ده زید دخپلی مذکوره خور چښلی دی دزید دیوی لور نکاح دهندی دیو زوی سره صحیح ده او که نه؟

جواب: که زیدی دتی رودو په عمرکی چی دوه نیم کاله یاددی څخه کم عمر دی شیدی چښلی وی نودی دخپلی خور رضاعی زوی سو اودده دخور چی څومره اولاددی هغه دده رضاعی ورونه اوخوندی دی نودزید دیوی لور نکاح دهندی دیوه زوی سره هم صحیح نه ده (۳) اوکه دزید عمر دشیدو چښلو په وخت ددوو نیموکالو څخه زیات وو نوبیابه حرمت رضاعت ثابت نه وی اودزید داولاد نکاح به دهندی داولاد سره حرامه نه وی. فقط

ددوو نیمو کالو په عمر کی یې شیدې وچښلې نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۱۸) موده درضاعت په نزد دامام صاحب رحمه الله دوه نیم کاله ده اویاران پوره دوه کاله وایی نوچی کم ماشوم ددوو کالو اوددوه نیمو کالو په مینځ کی شیدی وچښلی نوامام صاحب ددوی په مینځ کی نکاح حرامه وایی! شرعی فیصله مفتی به څه ده؟

---

(۱) رد المحتار باب الرضاع ص ۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

(۲) ویثبت به امومیة المرضعة للرضیع ویثبت ابوة زوج مرضعة اذا کان لبنها منه له والا لا فیحرم منه ما یحرم من النسب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲، ۲۱۳). ظفیر

(۳) ویثبت به الخ امومیة المرضعة للرضیع الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲، ۲۱۳). ظفیر

جواب: فقهاوو دواړو قولونو ته مفتٰی به ویلی دی، درمختار په باره دقول دیارانو کی فرمایی: وبه یفتٰی، اوپه باره دقول دامام اعظم رحمه الله کی فرمایی: وعلیه الفتوٰی. او شامی وایی: وحاصله انهما قولان افتی بکل منهما. نوپه هرځای کی به احوط اختیاروی مثلا په تی پریکولو کی به په قول دیارانو عمل کوی اوپه حرمت درضاعت کی به په قول دامام صاحب رحمه الله، یعنی په صورت مسئوله کی به حرمت درضاعت وی (۱).

دشامی او دموطا په عبارت کی غور: **سوال**: (۷۱۹) تا دیوی مسئلی په جواب کی (وتحل اخت اخیه رضاعًا) لیکلی دی خوپه موطاء امام محمد ص ۲۷۹ باب الرضاع کی دا عبارت مخالف دی دتطبیق څه صورت دی: فالاخ من الرضاعة من الاب تحرم علیه اخته من الرضاعة من الاب وان کانت الامان مختلفان. فقط

جواب: بنده به: تحل اخت اخیه رضاعا لیکلی وی (۲) او ددی صورتونه شامی لیکلی دی هغه وګوری (۳) دموطاء امام محمد صورت ددی څخه مخالف نه دی. فقط

دبلوغ څخه وروسته دتی په خوله کی په اخیستو سره حرمت نه ثابتیږی: **سوال**: (۷۲۰) عمر دهندی سره زنا کوله اویو وار یی تی ددی په خوله کی ونیوی نودعمر نکاح دهندی سره به کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دعمر نکاح په دی صورت کی صحیح ده ځکه چی حرمت درضاعت په دی صورت کی نه ثابتیږی، کذا فی عامة کتب الفقه (۴). فقط

دشپی ماشوم تی په خوله کی واخیستی څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۲۱) هنده بیده وه ددی برابر دهندی دلورزوی چی دهغه عمر ددوه کاله څخه کم وو بیده وو، نوچی کله داماشوم بیداره سو نوده دهندی تی په خوله کی واخیستی خودا معلومه نه وه چی تی یی څومره وخت په خوله کی وو، چی هنده بیداره سوه نودماشوم دخولی څخه یې راوایستی داهم معلومه نه ده چی ماشوم شیدی چنبلی دی اوکه نه په دی صورت کی رضاعت ثابت سو

---

(۱) حولان ونصف عنده وحولان فقط عندهما وهو الاصح فتح وبه یفتی کمافی تصحیح القدوری عند العون لکن فی الجوهرة انه فی الحولین ونصف ولو بعد الفطام محرم وعلیه الفتوٰی (درمختار) قوله لکن الخ استدرك علی قوله به یفتی. وحاصله انهما قولان افتی بکل منهما (رد المحتار باب الرضاع ص۵۵۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۰۹). ظ

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاعه ص۵۷۱ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفیر

(۳) ددی عبارت څخه وروسته په درمختار کی دی: کان یکون له اخت رضاعیه وکان یکون لاخیه رضاعا اخت نسبا وبهما وهو ظاهر (درمختار) قوله وهو ظاهر کان یکون له اخ رضاعی رضع مع بنت من امرأة اخرٰی (رد المحتار باب الرضاع ص۵۷۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۷). ظفیر

(۴) وقید بالثلاثین (شهرا) لان الرضاع بعدها لا یوجب التحریم (البحر الرآئق کتاب الرضاع ص۲۳۹ ج۳، ط.س. ج۳ ص۲۲۲). ظفیر

اوکه نه؟ زید وایي داصورت دشك دی اوپه شك رضاعت نه ثابتیږی خوپه طریقه دتنزه اوداحتیاط حرمت درضاعت ثابت دی اوس په دواړوقولونوکی په کم کی احتیاط او تنزه ده؟

جواب: په دی صورت کی دزید قول صحیح دی اوپه شك سره حرمت درضاعت نه ثابتیږی، په درمختار کی دی: فلو التقم الحملة ولم یدر ادخل اللبن فی حلقه ام لا لم یحرم لان فی المانع شکا ولوالجیه (۱) الدرالمختار. وفیه ایضا حجته حجة المال وهی شهادة عدلین اوعدل وعدلتین (۲) الخ او احتیاط اوتنزه بی شکه داده چی ددی بچی نکاح ددی ښځی داولاد سره ونه سی خوفتوٰی به دجواز ورکول کیږي. فقط

دواده څخه وروسته یو سړی او دوو ښځو درضاعت شاهدی ورکړه نو څه به کیږی؟ سوال:

(۷۲۲) دیوی ښځی دواده څخه شپږ میاشتی وروسته یوسړی اودوو ښځو شاهدی ورکړیده چی منکوحه دخپل خاوند دمور شیدی په ورځو درضاعت کی چښلی وی نوپه دی صورت کی حرمت درضاعت ثابتیږی اوکه نه؟

جواب: چی یوسړی اودوو ښځو معتبرو لمونځ گذارو شاهدی ورکړه نوحرمت درضاعت به ثابت وی. کمافی الدرالمختار باب الرضاع وحجته حجة المال وهی شهادة عدلین او عدل وعدلتین (۳) الخ. فقط

صرف ښځه درضاعت شاهدی ورکړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۲۳) اذا شهدت امراة واحدة اونسوة منفردات فی اثبات الرضاع وعلم صدقها فما حکم الافتاء والقضاء؟

جواب: حکم الافتاء والقضاء فی هذه الصورة انه لا یحکم ولا یفتی بشهادة النسآء فی حرمة الرضاع فان حجته حجة المال کما فی الدرالمختار (۴). فقط

څلورم فصل

حرمت دنکاح په سبب دجمع

دښځی دسکه خور سره نکاح باطله ده اواولاد به ثابت النسب نه وی اونه به وارث وی: سوال:

(۷۲۴) زیدمخکی دهندی سره نکاح وکړه اومهر هم مقرر سو اوس څوکاله وروسته زید دهندی دسکه خور سره نکاح کړیده پوښتنه ددی ده چی اوله اودوهمه نکاح دواړي باطلي دی اوکه صرف دوهمه نکاح؟ اوپه صورت دجواز داولی نکاح چی کم اولاد دزید

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۵۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲. وفی الفتح لو ادخلت الحلمة فی الصبی وشکت فی الارتضاع لاتثبت الحرمة بالشك (رد المحتار ایضا. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ص۵۲۸ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

(۴) وگوری الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

پیدا سویدی هغه دعوی دجائیداد منقوله اودغیر منقوله کولی سی اوکه نه؟ بل په صورت دعدم جواز ددوهمی نکاح کی چی کم اولاد دزید ددوهمی ښځی دنس څخه پیدا سو هغه حرامی دی اوکه بل څه؟ اودا اولاد په منقوله اوغیر منقوله جائیداد کی دعوه کولی سی اوکه نه؟

جواب: اوله نکاح صحیح ده اودوهمه نکاح چی دمخکنی ښځی دخور سره وسوه باطله ده اوداولی ښځی څخه چی کم اولاد ددی سوی دی هغه صحیح النسب دی اودزید به وارثان وی اوددوهمی خور څخه چی کم اولاد پیداسو دهغه نسب دزید څخه ثابت نه دی اونه دزید وارثان دی ([1]). فقط

دوې میریزې خوندې جمع کول هم حرام دي: **سوال**: (۷۲۵) دزید دوی ښځی دی یوه آمینه چی دهغه څخه دده لور زینب ده اوبله سکینه چی دهغه څخه دده لور کلثوم ده، زید دعمر سره دزینب نکاح وکړه څوورځی وروسته دزینب په ژوند کی دکلثوم نکاح هم دزید سره وسوه فی الحال دواړی خوندی چی پلار ددواړو یودی دزید په کورکی دی نودا نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: قال الله تعالى وان تجمعوا بين الاختين ([2]) الخ. اوحرام دی پرتاسی باندی ددوو خوندو (جمع کول) په یوه نکاح کی، نوهغه نکاح چی دعمر وروسته سویده باطله ده او حرامه ده اوددوی جلا کول پکار دی.

داخښي دلور سره نکاح صحيح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۷۲۶) داخښی لور داخښی (دخور دخاوند) په نکاح کی پاته کیدی سی اوکه نه؟

جواب: چی مخکنی ښځه په نکاح کی وی نوددی دخورزی سره او دوریری سره نکاح حرامه ده غرض داچی جمع کول دخاله او دخورزی دعمه او دوریری حرامه ده صحیح نه ده، خوکه ښځه په نکاح کی پاته نه سی ([3]) نوبیا دخورزی او دوریری ددی سره نکاح صحیح ده. فقط

([1]) فإن تزوج الأختين في عقدة واحدة فيفرق بينهما وبينه الخ وإن تزوجهما في عقدتين فنكاح الأخيرة فاسد ويجب عليه أن يفارقها ولو علم القاضي بذلك يفرق بينهما فإن فارقها قبل الدخول لا يثبت شيء من الأحكام وإن فارقها بعد الدخول فلها المهر ويجب الأقل من المسمى ومن مهر المثل وعليها العدة ويثبت النسب ويعتزل عن امرأته حتى تنقضي عدة أختها كذا في محيط السرخسي (عالمگیری کشوری القسم الرابع المحرمات بالجميع ص ۲۸۵ ج۲. ط. ماجديه ج۱ ص ۲۷۷). ظفير

([2]) سورة النسآء ركوع: ۴. ظفير

([3]) ولا يجمع الرجل بين اختين من الرضاعة ولابين امراة وابنة اختها اوابنتة اخيها (البحر الرائق فصل فى المحرمات ص ۱۰۲ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۹۵). ظفير

دترور او دخورزې په نکاح کې جمع کول صحيح نه دي: سوال: (۷۲۷) زيد مخکې دهندې سره اوبيا دصالحه سره نکاح وکړه اوهنده اوصالحه ترور اوخورزه دي چې دهغه حکم شرعًا: وان تزوجها على التعاقب صح الاول وبطل الثاني، دي، اوصالحه چې دهغه نکاح وروسته سويده دزيد سره متارکت نه کوي چې دهغه دپاره تفريق ضروري دي اوقبل المتاركة يا تفريق دغير مدخوله سره نکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: دابنکاره او دعبارت منقوله څخه واضحه ده چې په دې صورت کې نکاح ثاني باطله ده چې ترڅو مخکې ښځې ته طلاق ورنه کړي نو ددوهمې سره به نکاح صحيح نه وي اوپه دې صورت کې هم طلاق دتفريق دپاره متعين دي تفريق دقاضي دلته نه سي کيدې ځکه چې دوهمه نکاح صحيح نه ده هغه خوپه خپله باطله ده او مخکې نکاح صحيح ده نومنکوحه اولې چې دهغه نکاح صحيح ده ددې سره دتفريق سته او ثانيه نکاح نه ده سوې که ددې سره جماع کوي نودا به زنا وي، په درمختار کي دي: تزوجهما معا او بعقدتين ونسي الاول فلو علم فهو الصحيح والثاني باطل، (۱) ددې عبارت او دشامي دعبارت څخه واضحه کيږي چې دتفريق دقاضي يا دمتارکت ضرورت هلته دي چې په صحيح نکاح اوباطل نکاح کې تعين نه وي اوپه صورت مسئوله کې داامر متعين دي چې اوله نکاح صحيح ده اوثاني باطله ده نوخامخا چې دې دثانيې سره نژديکت کوي نو زنابه وي عام مسلمانان که قدرت لرې دوی دې جلا کړي يعني دا دوهمه ښځه دسړي څخه، اوکه دوی ته قدرت نه وي نو هريو حاکم دوی ته حکم کولی سي چې داښځه جلا کړه اوکه داسړی ددې دوهمې ښځې سره نکاح کول غواړي نومخکې ته دې طلاق ورکړي بيا که داغير مدخوله وي نو ددوهمې سره سمدستي نکاح کولی سي. فقط

چې طلاق ورکړي نو سمدستي ددې دخور يا دوريرې سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۷۲۸) ديوه سړي نکاح ديوې ښځې سره وسوه ددې اولاد پيدا نه سو ددې وجه څخه دا يې پريښووله اوددې دبلې خور سره يې نکاح وکړه په هم دغه ورځ باندې يې يوې خورته طلاق ورکې اودبلې خور سره يې نکاح وکړه دا نکاح جائز ده اوکه نه؟ دارنګه يو سړي ښځې ته طلاق ورکړي او سمدستي يې ددې دسکه وريرې سره نکاح وکړه نو داجائز ده اوکه نه؟

جواب: ددوو خوندو په نکاح کې جمع کول حرام دي ددې وجه څخه چې يوې خور ته يې طلاق ورکې نوچې کله ددې عده تيره سي نوهلته دبلې سره نکاح کولی سي، دارکم چې

---

(۱) وګوری رد المحتار فصل في المحرمات ص ۳۹۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۰. ظفير

ترور ته یې طلاق ورکی نوچی کله ددی عده تیره سی نو بیایی دوریری سره نکاح جائزده دعدی تیریدو څخه مخکی دبلی سره نکاح جائزنه ده (۱). فقط

دښځی دمیریزي مور سره نکاح په یو صورت کی صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۷۲۹/۱) دښځی په ژوند کی یا دمرګ څخه وروسته ددی دمیره مور سره نکاح جائزده اوکه نه دلیل یې بیان کړی؟

جواب: دښځی په ژوند کی هم ددی دمیریزي مور سره نکاح جائزده یعنی ښځه او ددی میره مور په نکاح کی جمع کول جائزدی په درمختار کی دی: فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها. (۲) په دی کی دامرأة څخه هغه میره مراد ده او دبنت څخه دمیره لور اوچی کله ښځه مړه سی نوبیا خو پکښی هیڅ شك اوشبهه نسته چی ددی دمیره مور سره نکاح جائز ده.

دورور دکونډی سره چی دده دښځی خور ده نکاح جائزنه ده: سوال: (۷۳۰/۱) زید خپل واده دیوی انجلی سره وکړی اودزید دسکه کشر ورور واده دوریندار ی دکشری سکه خور سره وسو څه ورځی وروسته زید مړسو اوس عمر دخپلی وریندار نکاح دځان سره کولی سی اوکه نه؟

جواب: ترڅو چی دعمر په نکاح کی دده ښځه ده نودی ددی دخور سره نکاح نه سی کولی ځکه چی دیوسړی په نکاح کی دوی خوندی جمع کول حرام دی لقوله تعالیٰ: وان تجمعوا بین الاختین، الآیه (۳). فقط

داکا او دوریری په یوه نکاح کی جمع کول حرام دی: سوال: (۷۳۱/۱) دترور او دوریری جمع کیدل دیوه سړی په نکاح کی کیدی سی اوکه نه؟

جواب: ترور او وریره دیوه سړی په نکاح کی په یوه وخت نه سی جمع کیدی. په درمختار اوپه مسلم شریف کی دی: لا تنکح المرأة علی عمتها ولا علی خالتها ولا علی ابنة اخیها ولا علی ابنة اختها. الحدیث. (۴) نوداسی اراده دی ګرسره ونه سی داحرام قطعی ده خو که مخکنی منکوحی ته طلاق ورکول سی اوددې عده تیره سی یادامړه سی نوبیاهم ددی دوریری سره نکاح صحیح ده. فقط

---

(۱) وحرم الجمع بین المحارم نکاحا ای عقدا صحیحا وعدة ولو من طلاق بائن (الدرالمختار علی هامش رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۸). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۹. ظفیر

(۳) سورة النساء رکوع ۴. ظفیر

(۴) وګوری البحر الرائق فصل فی المحرمات ص۱۰۴ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۹۸. ظفیر

مخکې یې خورته طلاق ورکی نو بیایې په هم دغه مجلس کی دبلې خور سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ **سوال:** (۷۳۲\) یوسړي خپلې ښځې ته طلاق ورکی اوددغه مطلقه دسکه خور سره یې په هم په دغه مجلس کی نکاح وکړه ددې نکاح څخه وروسته ښځه دپلار کره ولاړه اودبل سړي سره یې نکاح وکړه نوکمه نکاح صحیح اوجائز سوه؟

جواب: چې کمه نکاح دمذکوره ښځې دخور سره دخور په عده کی سوې وه هغه باطله (۱) ده، اوچې کمه نکاح مذکوره ښځې دمور او پلار په کور کی دبل سړي سره وکړه هغه صحیح سوه. فقط

دښځې دخورزې سره نکاح: **سوال**: (۷۳۳\) دزید ښځه فاطمه ژوندۍ ده اودا دزید دترور لور هم ده او دفاطمه خور مریم هم ژوندۍ ده اوددې یوه لور هم ژوندۍ ده، نودده نکاح دمریم دلور دفاطمې دخورزې سره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: چې فاطمه موجوده اودزید په نکاح کی وي نودزید نکاح دفاطمه دخور دلور سره صحیح نه ده. لقوله ﷺ لاتنکح المراة علی عمتها ولا علی خالتها ولا علی ابنة اخیها ولا علی ابنة اختها. روا مسلم (۲). فقط

چې دچاپه نکاح کی دیوې ښځې وریره وي نوبیا دابنځه ددې سړي سره نکاح نه سي کولی:

سوال: (۷۳۴\) هنده دخپلې وریرې نکاح دالف سره وکړه نودهندې نکاح دالف سره کیدی سی اوکه نه؟ اودهندې او دالف څخه دپردې کولو څه حکم دی؟ که هنده دالف په مخکې راسی نوګنهګاره به وي اوکه نه؟

جواب: چې ترکمه وخته دالف په نکاح کی دهندې وریره وي ترهغه دالف نکاح دهندې سره نه سي کیدی ځکه چې ترور او وریره په نکاح کی جمع کول حرام دی (۳) خودا ضرور ده چې هنده دالف په محرمات ابدی کی نه ده ددې وجه څخه په دې باره کی په حکم دپردې کی ده. باقي فقهاء دالیکی چې که بیره دفتنې نه وي نومخ ته په کتلوکی ګناه نسته نوکه هنده دالف په مخکې راغله اومخ یې نه وو پټ کړی نوګنهګاره نه ده خوکه بیره دفتنې وي وي نواحتیاط کول پکاردی په درمختار کی دي: ومن محرم هي من لا یحل له نکاحها أبدا الخ وینظر من الاجنبیة الخ الی وجهها وکفیها فقط للضرورة الخ

(۱) وحرم الجمع بین المحارم نکاحا وعدة ولومن طلاق بائن (درمختار) واشار من طلق الاربع لا یجوز له ان یتزوج امراة قبل انقضاء عدتهن (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۸). ظفیر

(۲) وګوری رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۹. ظفیر

(۳) ولا یجمع الرجل بین الاختین من الرضاعة وبین المراة وابنة اختها وابنة اخیها (البحر الرائق فصل فی المحرمات ص۱۰۲ ج۳ ، ط.س. ص ج۳ ص ۹۵). ظفیر

وان خاف الشهوة او شك امتنع نظره الى وجهها فحل النظر مقيد بعدم الشهوة والا فحرام الخ (۱) درمختار. فقط

چي ترور په نکاح کي وي نودترور دخاوند سره نکاح جائزنه ده: سوال: (۷۳۵/۱) دهندي ترور ژوندي ده اودې دخپل ترور دخاوند سره نکاح وکړه دانکاح منعقده ده اوکه نه؟ په صورت دعدم جواز کي ددي دواړو څه سزا اوکفاره ده؟

جواب: چي ترڅو ترور ژوندي وي اودده په نکاح کي وي نودترور دخاوند سره نکاح جائز نه ده، غرض داچي ترور او وریره دیو سړي په نکاح کي نه سي جمع کیدی کمافي الحدیث. لا تنکح المرأة علی عمتها الخ (۲).اوکما قال ﷺ. اوکفاره ددي داده چي نکاح کوونکي هنده دي جلاسي اودخپلي ګناه څخه دي توبه وکاړي. فقط

دښځي په وجود کي دخوښیني یا دخوښیني دلور سره نکاح جائز نه ده: سوال: (۷۳۶/۱) دعبد السلام یوه خوښینه ده اودهغه لور زبیده ده دعبدالسلام نکاح دزبیدي سره جائزده اوکه نه؟

جواب: عبدالسلام دخپلي ښځي په وجودکي دخپلي خوښیني یا دخوښیني دلور سره نکاح نه سي کولی ځکه چي دخوښیني لور دده دښځي خورزه ده اوترور اوخورزه په نکاح کي جمع کول حرام دي خوکه داښځه دده په نکاح کي پاته نه سي مړه سي یاطلاق ورکړي نودطلاقو دعدي څخه وروسته ددي دخورزي سره نکاح صحیح ده. فقط

دښځي په وجود کي ددي دناجائزي خور سره هم نکاح حرامه ده: سوال: (۷۳۷/۱) دزید دنس څخه یوه لور سعیده ده اودغیر منکوحي ښځي څخه یې یوه لور کریمه ده. زید دسعیدي عقد دخپل خوریي خالد سره وکي چي ژوندي موجود دي خوخالد اوس غواړي چي دکریمي سره هم نکاح وکړي نوآیا دسعیدي په وجودکي دکریمي عقد دخالد سره صحیح کیدی سي اوکه نه؟

جواب: فی الشامی قال قوله ولو من زنا تعمیم بالنظر الی کل ماقبله ای لافرق فی اصله وفرعه اواخته ان یکون من الزنا اولا الخ (۳) نومعلومه سوه چي په صورت مسئوله کي جمع دسعیده اودکریمي چي میریزي خورده دخالد سره صحیح نه ده. فقط

دیوې مور ددوو لونــو دیوه سړي په نکاح کي جمع نه سي کیدي: سوال: (۳۸/۱) یوي ښځي

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی النظر واللمس ص۳۲۲ - ۳۲۵ ج۵. ط.س. ج۶ ص ۲۷۰. ظفیر

(۲) وګوری رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۹. ظفیر

(۳) وګوری رد المحتار للشامی فصل فی المحرمات ص ۳۹۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۹. ظفیر

نکاح وکړه اوددی خاوند څخه یی یوه لور پیدا سوله اودا خاوند مړسو اومذکوره ښځی بل خاوند وکی ددی څخه هم یوه انجلی پیداسوه دی ښځی دواړي انجوني په بالغ کیدو سره دوو سړیو ته په نکاح کړی. نودیوی انجلی خاوند مړسو ایا دا انجلی دخپلی خور دخاوند سره نکاح کولی سی، یعنی دیوسړی په نکاح کی دیوی مور دوې لوڼی جمع کیدی سی؟

جواب: دوې خوندی دیوې مور لوڼی دیوه سړی په نکاح کی نه سی جمع کیدی، ددی وجه څخه ددی کونډی انجلی نکاح ددی دخور دخاوند سره په داسی حال کی چی داخور دده په نکاح کی ده صحیح نه ده بلکی قطعا حرامه اوباطله ده. لقوله تعالی وان تجمعوا بین الاختین. الآیة (١) نودا آیت دری واړو قسمونو دخوندو ته شامل دی یعنی، علاتی، اخیافی، اعیانی، نوعلاتی هغه خورده چی پلار یی یووی اومور یې جلا وی، او اخیافی هغه چی مور یی یوه وی اوپلار یی جلا جلا وي. فقط

دترور دخاوند نکاح دښځی دوریری سره جائزده اوکه نه؟ سوال: (۷۳۹\١) دترور دخاوند نکاح دښځی دوریری سره جائزده اوکه نه؟

جواب: دترور دخاوند نکاح دښځی دوریری سره دښځی دمرګ یا دطلاق ورکولو او دعدی دتیریدو څخه وروسته صحیح ده (٢). فقط

دښځی دمرګ څخه وروسته دخواښی دخور سره نکاح کول جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۷۴۰\١) دزید ښځه مړه سوه زید دخپلی ښځی دسکه ترور سره نکاح کول غواړی یعنی دخواښی دخور سره دانکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دښځی دمرګ څخه وروسته ددی دترور یعنی دخواښی دسکه خور سره نکاح صحیح ده. فقط

دښځی په وجود کی ددی دخورزی سره دنکاح کوونکی او تړونکی څه حکم دی؟ سوال: (۷۴۱\١) یوسړی په داسی حال کی چی دده ښځه دده په نکاح کی ده ددی دسکه خورزی سره یعنی دخوښینی دلور سره نکاح وکړه آیا دانکاح شرعًا صحیح ده اوکه نه؟ او مخکنی ښځه دده دپاره حلاله ده اوکه حرامه؟ دمسلمانانو په دي واده کی شریك کیدل څنګه دی. چی کمو خلګو په دی واده کی مدد کړیدی دهغوی څه حکم دی؟ که په دوی

---

(١) سورة النساء رکوع: ۴. ظفیر

(٢) وحرم الجمع بین امراتین ایتها فرضت ذکرا لم تحل للاخری ابدا لحدیث مسلم: لا تنکح المراة علی عمتها. (درمختار) ولاعلی خالتها ولا ابنة اخیها ولا علی ابنه اختها (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۳. ط.س. ج۳ ص ۳۸). ظفیر

کی څوك مړسو دده په تجهيز اوتکفين کی څوك مسلمان شريك نه سو دوو کسانو په موټرکی بی له لمانځه څخه دفن کی دده دجنازی لمونځ مسلمانانو لره کول پکار وو اوکه نه؟ اوپه تارك الصلوة دجنازی لمونځ کول په کاردی اوکه نه؟

جواب: ترور اوخورزه په نکاح کی جمع کول يعنی ددواړو سره نکاح کول حرام دی کمافی حديث مسلم: لا تنکحوا المراة علی عمتها ولا علی خالتها الخ [۱] اوپه دی دواړو کی چی کمه نکاح وروستنی ده هغه باطله ده کما فی الشامی: فلو علم فهو الصحيح والثانی باطل وله وطی الاولی الا ان يطأ الثانية فتحرم الاول الی انقضاء عدة الثانية [۲] الخ نو چی کم سړی نکاح کړيده نوهغه لره په کاردی چی ددی شنيع فعل څخه توبه وکاږی او دوهمه ښځه جلا کړی اودی ته دی نه ورځی اوکه ددی سره يی وطی کړی وی نوددی دعدی ترتيريدو پوری دی اولی ښځی ته هم نه ورځی، اوچی کمو خلگو دعلم سره په دی نکاح کی مدد کړيدی اوشريك سويدی داټول عاصيان اوفاسقان دی توبه او استغفار دی وکړی او دالله ﷻ څخه دي معافی وغواړی اوترڅو چی دوی توبه ونه کاږی مسلمانان دی ددوی سره يوځای کيدل پريږدی اودتوبی څخه وروسته ددوی په غم او ښادی کی شريك کيدل صحيح دی اوچی څوك په دوی کی مړسو نو ددوی دجنازی لمونځ دي وکی ځکه دفاسق دجنازی دلمونځ حکم سته: لقوله ﷺ صلوا علی کل بر وفاجر الحديث [۳] نوددی خطيب دجنازی لمونځ کول هم پکار وو داکار مسلمانانو ښه ونه کی ددی څخه دي توبه وکاږی، اودتارك الصلوة دجنازی لمونځ هم کول پکاردی په وجه دمذکوره حديث چی دهغه حاصل دادی چی دهرنيك او گنهگار سړی دجنازی لمونځ وکړی. فقط

دوی ميريزی خوندی په نکاح کی جمع کول جائزنه دی: سوال: (۷۴۲) زموږ دخسر ددوو ښځو څخه يوه يوه لورده مشره لور يی زما ښځه ده اوږوندی ده ددې څخه څه اولاد نسته آيا ددوهمی لور سره يې زما نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: ددوو ميريزيو خوندو هم په نکاح کی جمع کول حرام دی په شان ددوو سکه خوندو لعموم قوله تعالی وان تجمعوا بين الاختين (سورة النسآء : ۲۴) . فقط

ددوو اخيافی خوندو سره دجائز گڼونکی څه حکم دی؟ سوال: (۷۴۳) که يوسړی دوې اخيافی خوندی په نکاح کی وساتی اودا فعل جائز گڼی نودده څه حکم دی؟

---

(۱) فتح القدير ص ۱۲۴ ج۳. ظفير
(۲) رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۰. ظفير
(۳) وګوری مشکوٰة المصابيح. ظفير

جواب: ددوو خوندو په نكاح كی جمع كول حرام دي كه دواړی خوندی عينی وی اوكه علاتی اوكه اخيافی وی، كما قال الله تعالی: وان تجمعوا بين الاختين. الآية ([1]) وهكذا فی عامة التفاسير وكتب الفقه. اوجمعه كوونكی ددوو خوندو په يوځای په يوه نكاح كی فاسق دی اومنكر ددی دحرمت كافر دی. فقط

دښځی په وجودكی دخوښينی دلمسی سره نكاح جائزنه ده: **سوال**: (۷۴۴\) زيد دخوښينی دلور سره نكاح كول غواړی اودزيد مخكنی ښځه هم موجوده ده نوزيد ددی سره نكاح كولی سی اوكه نه؟

جواب: دزيد دخوښينی لمسی دا دده دښځی دخورزی لور ده نوچی ترڅو دزيد مخكنی ښځه موجوده ده په نكاح دده كي نوجمع كول ددی دواړو حرامه ده يعنی زيد دخپلی ښځی دخورزی دلور سره نكاح نه سی كولی. كذا فی كتب الفقه ([2]). فقط

دښځی په وجودكی ددې دميريزي مور سره نكاح صحيح ده اوكه نه؟ سوال: (۷۴۵\) دزيد نكاح دخپل خسر دمنكوحی سره صحيح ده اوكه نه؟ هنده دزيد دښځی زينب مور نه ده، نو دهندی او دزينبی جمع كول دزيد دپاره صحيح دی اوكه نه؟

جواب: دزيد نكاح دهندی سره صحيح ده اوجمع په مينځ دهندی اودزينب كی صحيح ده. كما فی الدرالمختار: فجاز الجمع بين امرأة وبنت زوجها ([3]) الخ. فقط

دښځی په وجود كی ددی دخور سره نكاح نه سی كيدی خو دكوروالی څخه وروسته مهر او عده لازمه ده: **سوال**: (۷۴۶\) كه زيد دخپلی ښځی په وجودكی ددی دخورسره نكاح وكړه نودابه صحيح وی اوكه نه؟ كه صحيح نه وی نوزيد به طلاق وركوی اوكه نه؟ اومهربه واجب الاداء وی اوكه نه؟ اوعدت به لازم وي اوكه نه؟ كه دزيد ښځه هنده مړه سي نو ددې دخور سره زيد نكاح كولی سي اوكه نه؟

جواب: چي ښځه په نكاح كي وي ددې دخور سره كه عيني وي اوكه علاتي اوكه اخيافي نكاح كول ورسره حرام دي، لقوله تعالی: وان تجمعوا بين الاختين. (سورة النسآء، ركوع: ۴ ، آية : ۲۴) اودا نكاح ثانی دښځی دخورسره باطله ده حاجت دطلاق وركولو

([1]) سورة النساء: ركوع ۴. ظفير

([2]) ولا يجمع الرجل بين أختين من الرضاعة ولا بين امرأة وابنة أختها أو ابنة أخيها ، وكذلك كل امرأة ذات محرم منها من الرضاعة للأصل الذي بينا أن كل امرأتين لو كانت إحداهما ذكرا والأخرى أنثى لم يجز للذكر أن يتزوج الأنثى فإنه يحرم الجمع بينهما بالقياس على حرمة الجمع بين الأختين (البحر الرائق فصل فی المحرمات ص ۱۰۲ ج۳ ، ط.س. ج۳ ص ۹۵). ظفير

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۹. ظفير

نسته دانکاح صحیح نه ده اوکه کوروالی یی کړی وی نوددی مهر مثل اوعده پر ده لازمه ده ([1]). فقط

دښځې په وجود کې ددې درضاعي ورور دلور سره نکاح جائزنه ده اودارکم درضاعي وریرې سره هم نکاح صحیح نه ده : **سوال**: (۷۴۷۱) هندی زید اوعمر ته په ایامو درضاعت کې شیدی ورکړی هندی دخپلې لور صالحې عقد دعمر دورور خالد سره وکې څوکاله وروسته زید دخپلې لور حمیده عقد دخالد سره کول وغوښتل په وجود دصالحه کې دغه وخت بکر زیدته ولیکل چې دحمیده نکاح په وجود دصالحې کې دخالد سره نه سی کیدی ځکه چې دترور اودرضاعي وریرې اجتماع حرامه ده ددې وجه څخه دحمیدې نکاح دخالد سره ونه سوه خوچې څوکاله وروسته چې په شاهدانو کې ماسوا دمرضعه څخه اودځو ښځو څخه بل څوك شاهد درضاعت پاته نه سو نوعمر خواهش وکې چې زه خپله نکاح دحمیدې سره کوم چې دزید لور ده اوس په دې وخت کې ماسوا ددوو څلورو ښځو څخه څوك سړی شاهد درضاعت نسته، خودزید رضیع چې ښه تقی اوعالم باعمل وو دده تحریر سته چې هغه خالد په منزله دیوشاهد عادل تصور کوی چې تحریر دزید او دنورو ښځو دشاهدی مجموعه درضاعت دثبوت دپاره کافی شاهدِ شرعی دی نونکاح دحمیدی دعمر سره جائزنه ده عمر وایی چې صرف دمستوراتو په شاهدی سره رضاعت نه سی ثابتیدی ځکه چې دزید دتحریر قضاءًا اودیانةً هیڅ اعتبار نسته ددی وجه څخه دحمیدی نکاح دعمر سره جائزده، په داسی حالت کی دعمر نکاح دحمیدی سره دیانةً او قضاءً جائزده اوکه نه؟

جواب: چې ښځگه دنسبي ترور او وریرې جمع کول په نکاح کې حرام دي داسې درضاعي ترور او دوریرې جمع کول هم حرام دي. لقوله ﷺ یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب. رواه الشیخان ([2]) وفی الشامی واراد بالمحارم ما یشمل النسب والرضاع ([3]) الخ. خو رضاعت په شاهدی دښځو نه ثابتیږي. کما فی الدرالمختار: حجته حجة المال وهی شهادة عدلین اوعدل وعدلتین ([4]) الخ. اوتحریر دزید په حکم دشاهدی دزید نه سی

([1]) وان تزوجها ای الاختین او بعقدتین ونسی النکاح الاول فرق القاضي بینه وبینها الخ وان کانت الفرقة بعد الدخول وجب لکل واحدة مهر کامل (درمختار) قوله نسی الاول فلو علم فهو الصحیح والثاني باطل وله الوطئ الاولی الا ان یطأ الثانیة فتحرم الاول الی انقضاء عدة الثانیة (ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۹۳ – ۳۹۴ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۴۰). ظفیر

([2]) وگوری رد المحتار باب الرضاع ص۵۵۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر

([3]) رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳۸. ظفیر

([4]) الدر المختار علی هامش رد المحتار فصل فی المحرمات ص۵۲۸ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

کیدی. لان الشهادة بیان عن العیان والله المستعان. (خوچی رضاعت دمخکی څخه ثابت وو او ددی علم عمر ته وو نو دیانةً دده نکاح دزید دلور حمیده سره صحیح نه ده، والله اعلم ظفیر). فقط

دښځی اوددی دپخوانی خاوند لور په نکاح کی جمع کول څنګه دی؟ سوال: (۷۴۸) هل یجوز الجمع بین امراة وبنت زوجها من غیرها ام لا ؟ بینوا وتوجروا !

جواب: قال فی الدرالمختار فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها اوامراة ابنها (۱) الخ وکذا فی غیره من کتب الفقه. نومعلومه سوه چی جمع په مینځ دښځی اوددی دخاوند دلور چی دبلی ښځی څخه وی رواده ولي چی علت دحرمت دجمع دلته نسته کما حققه فی الدرالمختار . فقط

دښځی په وجود کی ددی دخور سره نکاح حرامه ده اوزنا خوپه هرحال کی: سوال: (۷۴۹) زبیده دڅلورو کالو راهیسی کونډه ده اوددی دڅلورو میاشتی حمل دی چی ددی دلیور مسمیٰ اکبر څخه دی اوس دحرام په حمل کی دمذکوره ښځی نکاح ددی دلیور اکبره سره جائزده اوکه نه؟ سره ددی چی دزبیده سکه خور داکبر په کور کی ده نو ددوو خوندو په نکاح کی جمع کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: چی کمه ښځه حامله دزنا څخه ده دهغې سره نکاح کول صحیح دی: ان تزوج حبلی من زنا جاز النکاح. هدایه ص ۲۹۲. خوچی کله داکبر په نکاح کی دمزنیی خورده نوپه دی صورت کی دمزنیی سره داکبر نکاح صحیح نه ده. ولا یجمع بین اختین نکاحًا. هدایه ص ۲۸۸ ج۲. فقط

ددوو رضاعی خوندو جمع کول حرام دی: سوال: (۷۵۰) یوه انجلی ده چی دهغې پلار دڅه مودی راهیسی لاپته دی اومور یی مړه ده په حالت دلا وارثی کی دا انجلی یوعزیز خپل کورته بوتله اودخپل زوی نکاح یی ورسره وکړه چی تقریبا شل کاله کیږی خودغه وخت هلك اوانجلی دواړه نابالغ وو په حالت دبالغ کیدو کی انجلی دانکاح منظوره نه کړه شپاړس کاله کیږی چی دا انجلی دخپل خاوند دکوره خپل کورته راغلی ده اودغه وخت ددی پلار چی ورك وو هم راغی اودشروع دعقد څخه واخله تراوسه ددی هلك اودانجلی هیڅ تعلق نه دی پاته سوی اوس دی هلك دخپلی ښځی دترور دلور سره واده وکی خو دی دواړو دیوی مور شیدی رودلی دی آیا ددی مخکی انجلی عقد ناجائز سو نودوهم عقد کیدی سی اوکه نه اودا دوهمه انجلی ددی هلك په نکاح کی راتلی سی اوکه نه؟

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۱ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۳۹. ظفیر

جواب: چی مخکی ښځه اوددی دترور لور رضاعی خوندی دی نودا دواړی دیوسړی په نکاح کی نه سی جمع کیدی اوکه دی دمخکنی ښځي دترور دلور سره چی ددی رضاعی خور ده نکاح کول غواړی نومخکی ښځی ته دی طلاق ورکړی اوچی کله ددی دعدت دری حیضه تیرسی نوبیا ددی درضاعی خورسره نکاح صحیح کیدی سی اوصرف ددی ښځی په انکار سره وروسته دبلوغ څخه بغیر دقضاء دقاضی څخه دنکاح فسخ نه کیږي. کذا فی الدرالمختار. (۱) فقط

دښځی په وجود کی ددی دوریری دلور سره نکاح جائزنه ده: سوال: (۷۵۱) یوسړی دوهمه نکاح کول غواړی دده ښځه ژوندی ده اوچی دکمی ښځی سره نکاح کول غواړی هغه ددی دښځی دوریری لور ده اودخور یی لورده یعنی دسکه ورور اودسکه خور لمسۍ ده عالمان دی نکاح ته حرام وایی آیا ددوی فتوٰی صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دعالمانو فتوٰی په مذکوره صورت کی صحیح ده. په وجود دښځی کی ددی دورور اودخور دلمسی سره نکاح صحیح نه ده، قطعا حرامه ده. هکذا فی کتب الحدیث والفقه (۲). فقط

دښځی په وجود کی دترور خاوند دښځی دوریری سره یی نکاح وکړه بیا پلار ددی بله نکاح وکړه کمه یوه صحیح ده؟ سوال: (۷۵۲) یوسړی خپله لور ددی دترور دخاوند سره پریښوولمه څه موده وروسته چی پلار په دی پسی ورغی نودانجلی دترورخاوند ورته وویل ماداستا دلور سره نکاح کړیده زه دانه پریږدم، جنګ جګړه وسوه په زور سره یی ځینی دا انجلی راوستله چی کله داخبره مشهوره سوه نوخلګو باندی لعنت ملامت وکی نوده وویل چی ماخو خپلی ښځی ته طلاق ورکړی دی او ددی سره می نکاح کړیده حال دادی چی داښځه تراوسه دده په کورکي ده آیا په داسی صورت کی نکاح جائز کیدی سی دانجلی پلار چی دانجلی نکاح په بل ځای کی وکړه هغه صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دترور په نکاح کی دوریری سره نکاح حرامه ده جمع دترور او وریری په نکاح کی حرام قطعی ده (۱) نوکه دترور خاوند خپلی مخکی ښځی ته طلاق نه وی ورکړی نو ددی

---

(۱) بشرط القضاء للفسخ (درمختار) حاصله انه اذا کان المزوج للصغیر والصغیرة غیر الاب والجد فلهما الخیار بالبلوغ اوالعلم به فان اختار الفسخ لایثبت الفسخ الا بشرط القضاء (رد المحتار باب الاولی ص۴۲۱ ج۲. ط. س. ج۳ ص۷۰). ظفیر

(۲) ولایجمع الرجل الخ بین امرأة وابنة أختها أو ابنة أخیها، وکذلك کل امرأة ذات محرم منها من الرضاعة للأصل الذي بینا أن کل امرأتین لوکانت إحداهما ذکرا والأخری أنثی لم یجز للذکر أن یتزوج الأنثی فإنه یحرم الجمع بینهما بالقیاس علی حرمة الجمع بین الأختین (البحر الرائق فصل فی المحرمات ص۱۰۲ ج۳، ط. س. ج۳ ص۳۹). ظفیر

انجلی سره نکاح صحیح نه ده اوکه طلاق یی ورکړی وی خوعده دطلاقو چی دری حیضه ده نه وو تیر سوی بیاهم نکاح دانجلی سره حرامه ده اوکه طلاق یی هم ورکړی وی اوعده هم تیره سوی وی خو انجلی نابالغه ده بیاهم بغیر داجازی دپلاره نکاح ناجائز ده خوکه خپلی مخکی ښځی ته یی طلاق ورکړی وی اوعده یی تیره سوی وی اوانجلی بالغه وی اودانجلی په رضا اوخوښی سره نکاح سوی وی نوبیانکاح صحیح ده اوپه کمو صورتونو کی چی دترور دخاوند سره نکاح ناجائز سوه په دی صورتونو کی پلار دانجلی چی انجلی په بل ځای کي په نکاح کړه دا نکاح صحیح ده. فقط

<u>دلاندینی قرابت دوو ښځی جمع کول څنګه دی؟</u> سوال: (۷۵۳) دزید په نکاح کی ترخه وخته پوری هنده وه اوس دی دزبیدی سره نکاح کول غواړی چی دهندی او دزبیده لاندینی قرابت دی، دزبیده دپلار دنیکه (دمور دپلار) دوی ښځی وی په دوی کی دیوی انجلی پیدا سوه دزبیده دنیکه (دمور دپلار) دمخکنی ښځی څخه هنده پیداسوه او ددوهمی څخه هغه انجلی چی دزبیدی دپلار مورده. اوس ددوی دواړو په مینځ کی دانا او لمسی رشته ده اوکه نه؟ اوددی دواړو جمع کول په نکاح کی صحیح دی اوکه نه؟ که زید هندی ته طلاق ورکی اوددی په عده کی دزبیدی سره نکاح وکړی نوجائزده اوکه نه؟ اوکه نکاح سوی وی نوځه کول پکاردی؟ که مخکی نکاح سوی وی اودا باطله وی نوتجدید دنکاح به څنګه وی ځکه چی اوس زبیده حامله ده اودنکاح خوان او دحاضرینو دپاره شرعاً څه حکم دی؟

جواب: دزبیدی اودهندی په مینځ کی داسی رشته ده چی دوی دواړه په نکاح کی جمع کول حرام دی ځکه چی په دوی کی هریو هم سړی فرض کړی نودبل دپاره حرام دی، ځکه چی دزبیده انا دهندي میریزی خورده (۲) اوکه هندی ته طلاق ورکول سی نوددی په عده کی هم دزبیدی سره نکاح حرامه ده اوکه داسی سوی وی نودا نکاح به باطله ګڼل کیږی دعدی څخه وروسته دی بیا نکاح وسی (۳) زبیده که څه هم حامله وی دهندی دعدی تیریدو څخه وروسته دزبیدی سره په دی حالت دحمل کی تجدید دنکاح کیدی سی ځکه چی دا حمل ثابت النسب نه دی او دحاملی عن الزنا سره مخکي تر وضع دحمل دا نکاح

---

(۱) ولا یجمع بین المراة وعمتها الخ (هدایه باب المحرمات ص ۲۸۸ ج۲). ظفیر

(۲) وحرم الجمع وطا بملك یمین بین امراتین ایتهما فرضت ذکرا لم تحل الاخری ابد (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المحرمات ص۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۸). ظفیر

(۳) واذا طلق الرجل امراته طلاقا بائنا او رجعیا لم یجز له ان یتزوج باختها حتی تنقضی عدتها (هدایه فصل فی المحرمات ص ۲۸۹ ج۲). ظفیر

صحیح ده (۱) اونکاح خوان اوحاضرین دی توبه وکاږی بل څه تعزیر ددوی دپاره نسته.

دښځی دمیریزی وریری سره نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال:** (۷۵۴\) یوسړی دیوې داسی ښځی سره نکاح کړیده چی دا دده دښځی میریزی وریره ده اودارنګه نکاح کوونکی قبل دنکاح څخه خپلی ښځی ته طلاق ورکړی وو دانکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: ترور اووریره په یوه نکاح کی جمع کول حرام دی. لقوله ﷺ لاتنکحو المراة علی عمتها ولاعلی خالتها ولاعلی ابنة اخیها ولاعلی ابنة اختها (۲) رواه مسلم. خوکه ښځی ته یی طلاق ورکړی وی اوددی عده یعنی دری حیضه تیرسوی وه نوددی څخه وروسته دښځی دوریری سره نکاح صحیح ده اوسکه اومیریزی ترور او وریره په حرمت کی برابر دی. فقط

دښځی دسکه وریری سره نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال:** (۷۵۵\) زید دمنکوحی په وجود کی ددی دسکه وریری سره نکاح وکړه نو دا شرعًا جائز ده اوکه نه؟

جواب: دښځی دسکه وریری سره نکاح حرامه ده ځکه چی ترور اووریره په نکاح کی جمع کول په احادیثوکی ممنوع اوحرام ګرځول سوی دی: لایجمع بین المراة وعمتها، الحدیث (مشکوٰة شریف باب المحرمات ص۲۷۲، ظفیر). فقط

یوسړی ددوو خوندو سره نکاح وکړه څه حکم دی؟ **سوال:** (۷۵۶\) یوسړی ددوو خوندو سره نکاح وکړه بیا دخلګو په ویلو سره یی مخکنی خورته طلاق ورکی دعدی څخه وروسته دوهمی خورسره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: مسئله دشریعت داده چی که ددوو خوندو سره مخکی وروسته نکاح وسی نوپه مخکنی نکاح صحیح کیږی اودوهمه باطله ده نوپه صورت مسئوله کی که دی سړی ددواړو خوندو سره وروسته او مخکی نکاح کړی یعنی په یو وخت کی په یو ایجاب اوقبول نکاح نه وه سوی بلکی په جلا جلا وخت کی سوی وه نودوهمه نکاح چی وروسته سویده هغه باطله ده او مخکی صحیح خوچی کله ده مخکی ښځی ته طلاق ورکی نوکه یې طلاق بائن یامغلظ ورکړی وو یاطلاق رجعی یې ورکړی وو اوپه عده کی یی رجوع نه وه کړی نودا نکاح هم ماته سوه نوددی دعدی دتیریدو څخه وروسته که دی ددوهمي ښځی سره نکاح وکړی نوصحیح ده (۳). فقط

---

(۱) وان تزوج حبلی من زنا جاز النکاح ولا یطاها حتی تضع حملها (هدایه ص ۲۸۹ ج۲). ظفیر

(۲) ردالمحتار ص ۳۹۱ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۳۹. ظفیر

(۳) وحرم الجمع بین المحارم نکاحا ای عقدا صحیحا وعدة ولومن طلاق بائن (درمختار) اذا تزوجهما فی عقد واحد فانه لایکون صحیحا قطعا ولافیما اذا تزوجهما علی التعاقب وکان نکاح الاولی صحیحا فان نکاح =

دوو خوندو سره نکاح او ددې داولاد حکم: **سوال**: (۷۵۷\) دوو خوندو سره په یوعقد کې خو نه په دوو عقدونو کې یوسړي نکاح وکړه اوددواړو څخه اولاد هم شروع سو نواوس به اولاد ددې سړي څخه ثابت وي اوکه نه او دوروستني ښځې دمرگ څخه وروسته به دمخکنی ښځې نکاح باقي وي اوکه نه نکاح به کول غواړي ددې کفاره څه ده اوچې کم قاضي یا امام سره دمسلمانانو دمنع کولو تړلي وي دهغه څه حکم دی؟

جواب: که نکاح ددوو خوندو سره مخکې وروسته سوې وي نومخکنی صحیح سوه ددې څخه چې کم اولاد پیداسو هغه صحیح النسب دی او وروستنی چې کمه نکاح سویده هغه باطله ده ددې څخه چې کم اولاد پیداسو دهغه نسب به ثابت نه وي او دوروستنی دمرگ څخه دمخکنی ښځې سره دنوي نکاح ضرورت نسته دانکاح قائمه اوباقي ده (۱)، اوکفاره ددې گناه داده چې داسړي دخپل فعل څخه توبه وکاږي اواستغفار وکړي نورڅه کفاره یې نسته اوقاضي فاسق اوگنهگار دی توبه دې وکاږي اوامامت ددې قاضي مکروه دی. فقط

پنځم فصل

حرمت دنکاح په سبب داختلاف دمذهب

چې څوک غلام احمد قادیاني پیغمبر مني هغه مرتد دی دده سره نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۷۵۸\) په ښځه اوخاوند کې داسې خبرې وسوې چې دهغه څخه پرسړي دقادیاني شبهه کیږي مثلا داچې سړي وویل نبوت ختم سویدی اوکه نه؟ ښځې وویل نبوت ختم سویدی سړي وویل نه ددې څخه وروسته مرزا غلام احمد قادیاني هم پیغمبر سویدی؟

جواب: دمذکوره خبرو څخه معلومه سوه چې سړی قادیاني دی او قادیاني مرتد او کافر

= الثانية والحالة هذا باطل قطعا (رد المحتار باب المحرمات ص۳۹۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۳۸). ظفیر

(۱) وحرم الجمع بين المحارم نكاحا وعدة الخ وان تزوجهما معا اى الاختين الخ ونسى النكاح الاول فرق القاضي بينه وبينهما (درمختار) قوله نسي الاول فلو علم فهو الصحيح والثاني باطل الخ وفرق بينه وبين الاخرٰى (رد المحتار فصل فى المحرمات ص۳۹۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص۳۹) رجل مسلم تزوج بمحارمه فجئن باولاد يثبت نسب الاولاد منه عند ابى حنيفه خلافا لهما بناء على ان النكاح فاسد عند ابى حنيفة وباطل عندهما كذا فى الظهيرية (عالمگیری کشوری ص۵۵۲ ج۲. ط. ماجدیه ج۱ ص۵۴۰) وإن تزوجهما اى الاختين في عقدتين فنكاح الأخيرة فاسد ويجب عليه أن يفارقها ولو علم القاضي بذلك يفرق بينهما فإن فارقها قبل الدخول لا يثبت شيء من الأحكام وإن فارقها بعد الدخول فلها المهر الخ وعليها العدة ويثبت النسب ويعتزل امرأته حتى تنقضي عدة اختها (عالمگیری باب المحرمات ص ۲۸۵ ج۲. ط. ماجدية ج۱ ص۲۷۷) وتقدم فى باب المهر ان الدخول فى النكاح الفاسد موجب للعدة وثبوت النسب ومثل له في البحر هناك بالتزوج بلا شهود وتزوج الاختين معا (ردالمحتار باب العدة ص۸۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص۵۱۲) دارنگه وگورئ: البحر الرآئق ص۱۲۹ ج۳ باب المهر، ددې تفصیلي حواله منشاء داده چې ددوهمې اولاد هم ثابت النسب دی. والله اعلم. ظفیر

دی ددی وجه څخه په دوی کی نکاح قائمه نه سوه، ښځی لره پکاردی چی دده څخه جلا سی اوکه دی دباطلي عقیدی څخه توبه وکاړی اوایمان تازه کړی اوښځه دده سره نکاح کول وغواړی نوبیا په دوی کی نکاح کیدل ضروری دی (۱). فقط

دسنی انجلی نکاح دقادیانی سره صحیح نه ده اوخاوند که دنکاح څخه وروسته قادیانی سو نو نکاح باطله سوه: **سوال**: (۷۵۹/۱) زید حنفی دخپلی لور هنده نکاح دعمر سره وکړه که عمر په وخت دنکاح قادیانی وو نونکاح صحیح سوه اوکه نه؟ اوکه په وخت دنکاح حنفی ؤ وروسته قادیانی سو نونکاح قائمه پاته ده اوکه نه؟ اوهنده حنفیه دبل حنفی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دخاوند دقادیانی کیدو په صورت کی دهندی حنفیه سنیه نکاح دده سره صحیح نه ده (۲) اوکه خاوند دنکاح څخه وروسته قادیانی سو نونکاح باطله سوه: لان ارتداد احدالزوجین موجب لفسخ النکاح (۳)، نوپه دی صورت کی هنده وروسته دعدی دتیریدو څخه بله نکاح کولی سی. فقط

دشیعه اهل قرآن وغیره سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۷۲۰/۱۱) که هلك اهل سنت او انجلی شیعه یامرزایی یاچکړالوی وغیره وی نودوی په خپل مینځ کی نکاح کولی سی اوکه نه؟ اوکه انجلی اهل سنت اوهلك شیعه وغیره وی نو ددوی نکاح کیدی سی اوکه نه؟

دمسلمان واده دعیسایی ښځی سره څنګه دی؟ **سوال**: (۷۲۰/۱۲) مسلمان سړی دعیسایي ښځي سره نکاح کولی سي اوکه نه؟

جواب: (۱) نه سی کیدی ځکه چی دمرزایی، چکړالوی اودغالی رافضی تکفیر سویدی او په مسلمان اوکافر کی مناکحت جائزنه دی (۴). فقط

۲. کولی یې سی ولي چی داهل کتاب ښځی سره دمسلمان نکاح صحیح ده کذافی الدرالمختار وغیره (خوځان ورڅخه ساتل ښه دی: ففی الفتح ویجوز تزوج اهل الکتابیات، والاولی ان لایفعل. رد المحتار ص۳۹۷ ج۲. ظفیر). فقط

---

(۱) وحرم نکاح الوثنیة بالاجماع وفی الفتح ویدخل فیه عبدة الاوثان وعبدة الشمس الخ وکل مذهب یکفر به معتقده (رد المحتار فصل فی المحرمات ص ۳۹۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵). ظفیر

(۲) وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ الخ عاجل بلا قضاء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النکاح الکافر ص۵۳۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفیر

(۳) وحرم نکاح الوثنیة الخ وکل مذهب یکفر معتقده (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۳ ج۲). ظفیر

(۴) وصح نکاح کتابیة وان کره تنزیها مؤمنة بنبی مرسل مقرة بکتاب منزل وان اعتقدوا المسیح الها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۹۷ – ۳۹۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵). ظفیر

دمیرزایي انجلي سره نکاح اوددې سره دتعلقاتو حکم: **سوال**: (۷۲۱) یوسړی دمرزایانو سره دخپل زوی واده کړیدی اوچې کم سړی دمرزایي واده کړیدی دهغه سره دمسلمانانو تعلقات ساتل جائزدی اوکه نه؟

جواب: که ددی انجلي عقیده هم دمرزایانو وي نوددې سره دسني مسلمان نکاح صحیح نه ده، ددې مسلمان سړي ته دې وویل سې چې مرزایي ښځه دځان څخه جلاکړه یادیته داسلام تلقین ورکړه اودمسلمانیدو سره نکاح تازه کړه. (دقادیانیانو پرکفر دامت دعلماء وو اتفاق دی. ظفیر)

چې کم شیعه قرآن کریم ته محرف وایي دده سره نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۷۲۲) دهندي سنیي نکاح دزید شیعه سره سویده اوس هندي ته خلګو داشك اچولی دی چې شیعه عموما کافروی داستا نکاح دزید سره صحیح نه ده دیوسړي په پوښتنه زید په قسم دخپلي عقیدي اظهار وکی اووی ویل چې زه قائل یم، قذف دعائشي رضي الله عنها ته حرام وایم او دالوهیت دحضرت علي رضي الله عنه قائل نه یم دحضرت جبرائیل علیه السلام څخه بالکل غلطي نه ده سوي موجوده قرآن کریم خپل قرآن کریم ګڼم دغه وخت سائل زید ته داوویل چې ستا په کتاب اصول کافي کي دحضرت امام جعفر څخه یوحدیث مروي دی چې دهغه یوه حصه داده: والله ما فیه من قراءتکم حرف واحدٌ، ددې حدیث څه جواب دی نوزید وویل چې زه به دخپل مجتهد څخه پوښتنه وکړم ددې جواب به درکم سائل بیا دزید څخه پوښتنه وکړه زید ددې جواب هم دمجتهد په پوښتنه کولو پرېښووی پنځلس ورځي وسوي جواب یې نه دی ورکړی په داسي صورت کي دهندي نکاح دزید سره به صحیح وي اوکه نه اودمذکوره حدیث څه جواب دی؟

جواب: داخو ښکاره ده چې داپه حضرت امام جعفر صادق باندي افتراء ده اوددې رافضي چې دده سره خبري وسوي که دې موجوده قرآن کریم محرف ګڼي نودی هم کافردی ددې سره دسنیه نکاح نه سي کیدی.

علی هذا القیاس که یوبل امر موجب دکفر په ده کي سته نوبیا هم دسنیي نکاح دده سره به صحیح نه وي اوکه دې دتمامو کفریه عقایدو څخه برائت ښکاره کړي نوبیا نکاح صحیح ده خودرافضیانو په هیڅ حال اعتبار نسته دتقیه بهانه یولوی غضب دی ددې وجه څخه سنیه ددې څخه جلا کول پکار دی (۱) . فقط

---

(۱) وبهذا ظهر أن الرافضي إن كان ممن يعتقد الألوهية في علي، أو أن جبريل غلط في الوحي، أوكان ينكر صحبة الصديق ، أو يقذف السيدة الصديقة فهو كافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدين بالضرورة (رد المحتار ص ۳۹۸ ج۲ فصل فی المحرمات ، ط.س. ج۳ ص ۴۲). ظفیر

دمرزايي سره دسنيه نكاح صحيح نه ده: سوال: (۷۲۳) څه موده وسوه چي يوعقد دنكاح دمرزايي اوداهل سنت والجماعت په مينځ كي وسو اوښځه اوخاوند په وخت دنكاح نابالغه وه اواوس هم نابالغه دي خوپه دي وخت كي دانجلۍ سني پلار چي دهلك پلار كم چي سخت بدعقيده مرزايي دي وليدي نودا غواړي چي دانكاح فسخ سي اوددي وجه څخه دي انجلي سره نه رخصت كوي په دي صورت كي شرعا څه حكم دي؟

جواب: په دي صورت كي مذكوره نكاح منعقده نه ده سني لره پكاردي چي خپله لور هلته رخصت نه كړي اوپه اهل سنت والجماعت كي دي نكاح وكړي ځكه چي دمرزايي جماعت پرتكفير دعالمانو اتفاق دي اودكافر اودمسلمان په مينځ كي نكاح نه منعقد كيږي اونابالغ اولاد تابع دمور اودپلار وي . ولا يصح ان ينكح مرتد اومرتدة احد من الناس. درمختار (۱) وفي الشامي لانه قبل البلوغ تبع لابويه ص۳۹۴ ج۳. شامي (۲).

چي چا كلمه دكفر وويله دهغه سره دمسلماني انجلي نكاح صحيح ده اوكه نه؟ سوال: (۷۲۴) دهندي په عمر دنابالغي كي نكاح دزيد سره وسوه اودزيد كور والا دنكاح څخه مخكي دشرك اعتقاد لري اوپه رام رام ويلو ليدل سويدي اودبتانو نذراني وركوي آيا دزيد دمسلماني هندي سره نكاح صحيح ده اوكه نه؟

جواب: كه دزيد څخه څه خاص فعل دكفر ياكلمه دكفر اوريدل سوي وي چي دهغه تاويل نسي كيدي غرض داچي دزيد په كفركي څه شك شبهه پاته نه سي نودغه وخت به دبطلان دنكاح حكم وي كنې نه به وي (۳). فقط

دمرزايي سره دنكاح تړونكي اوپه دي كي دشركت كوونكي څه حكم دي؟ سوال: (۷۲۵) يوملا ديو مرزايي عقيدي والاسره ديوي سني انجلي نكاح وكړه نودا نكاح صحيح ده اوكه نه؟ اوملا اودحاضرينو نكاح ماته سوه اوكه نه؟ اوددي ملا دبيعت اودامامت څه حكم دي؟

جواب: دسنيه انجلي نكاح دمرزايي عقيدي والا سړي سره جائزنه ده (۴) نوملا چي سره ددي چي ده ته دمرزايي دعقيدي فساد معلوم ؤ ده نكاح وتړله نودي فاسق دي اوګنهګار سو اودده بيعت صحيح نه دي اوامامت دده مكروه تحريمي دي خودده اودحاضرينو

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ص ۵۴۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۰۰. ظفير

(۲) رد المحتار باب نكاح الكافر ص۵۴۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۹۷. ظفير

(۳) وارتداد احدهما اي الزوجين فسخ عاجلا بلا قضاء (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ص۵۳۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۹۳). ظفير

(۴) ولا يصح ان ينكح مرتدا اومرتدة احد من الناس مطلقا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب النكاح الكافر ص۵۴۵ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۰۰). ظفير

نكاح باقي ده دوى تهولو لره توبه كښل پكاردي اوښكاره كول پكاردي چې دانكاح چې دمرزايي سره سويده صحيح نه ده. فقط

دشعيه سره په نكاح كولوكي احتياط ضروري دي: سوال: (۷۲۶) زيد داهل السنة والجماعة عقيده لري اودده دترور زوى دبكر خاندان غير مغلظ شيعه دي خومعلومه ده چې دي پايبند دمذهب دروافضو نه دي اودده مور دزيد ترور سنى ده اودبكر ښځه هم دسنى خاندان لورده اوبكر وايي چې مورِ رافضيان نه يو زمورِ په نزد تمام اصحاب دخورِ نبي ﷺ برابردي، مورِ ديوهم بد نه بيانوو په تهولو اصحابو تبرا ناجائز ده اودجمع لمونځ په جمع كوى اونور لمونځونه هم په جمع كوى نوبكر دخپل زوى دپاره دلور طلبګاردي آيا ددى نكاح جائزده اوكه نه؟ علاوه ددى څخه يوتقرير مستفتي ليكلى وو چې دهغه حاصل دادى چې دثواب اودعقاب دار ومدار په عمل دى عقيده چې هرڅه وى.

جواب: دمسئلې جواب دادى چې كه بكر غالى شيعه تبرايي نه دى نودده دزوى سره چې كه دى داسې وى نودزيد دلور نكاح صحيح ده خوښه داده چې ترڅو پورى دبكر تهول خاندان اهل سنت والجماعت نه وى ترهغه وختنه دى نكاح ونه سى يوتردد دلته داهم دى چې په روافضو كې تقيه (دځان ساتنه كه څه هم په درواغو ويلو وي) ضرور ګڼل كيږى نو ددى به څنګه اطمينان وى چې دوى څه په ژبه وايي دادوى تقيه نه كوى، اوواضحه دى وى چې دعقايدو خرابى ډيره لويه اومضره ده. نبى كريم ﷺ دمسلمانانو درى اويا فريقى ښوولى دى اوفرمايلى يې دى: كلهم فى النار الا واحد (۱) الخ. چې داتهول دوږخيان دى ماسوا ديوى فرقى څخه چې هغه اهل سنت والجماعت دى اوددى فرقى داهل السنت والجماعت تعريف نبى كريم ﷺ دافرمايي ما انا عليه واصحابى. چې دوى به په هغه طريقه وى چې په كمه زه اوزما اصحاب دى نوچې كمه فرقه داهل السنت والجماعت څخه ښه ده هغه نارى ده اواهل هوا ده اواهل باطل ده نودنبى كريم ﷺ څخه څوك زيات په قرآن كريم پوهيدونكى وو؟ ددى وجه څخه داتقرير تهول بى كاره اوبى اصل دى. طريقه داصحابو ته وګورئ چې هغه څه وه ځكه چې همدا طريقه دنبى كريم ﷺ ده اوهم دا نجات وركوونكى ده صرف په نوم مسلمان كيدو سره كارنه كيږى اودعقيدى دفساد سره نيك اعمال په كارنه راځى. لكه چې په حديث دخوارجو كې ذكردى. يحضر احدكم صلوٰة مع صلاتهم، الحديث . فقط

دسني هلک نكاح دشيعه ښځې سره جائزده اوكه نه؟ سوال: (۷۲۷) زمامذهب سنى دى اوما

(۱) وتفترق امتى على ثلث وسبعين ملة كلهم فى النار الا ملة واحدة قالوا من هى يارسول الله قال ما انا عليه واصحابى (مشكوٰة ص ۳۰). ظفير

دیوشیعه انجلی سره نکاح کړیده دانکاح صحیح اوجائز ده اوکه نه؟

جواب: په روافضو کي هغه خلګ کم چي ډير تجاوز کوونکي دي مثلاً دحضرت صديقه رضي الله عنها دافك وينا کوي هغوی په اتفاق کافران دي (١) اوکم روافض چي شيخينوته سب (ښکنځل) کوی نوددوی په کفرکی اختلاف دی (٢) په هرحال احتیاط ضروری دی چی دابنځه سنيه کړه اوبيا دی ورسره نکاح وسی ځکه چی دکافری ښځی سره دسنی مسلمان نکاح نه سی کیدی. فقط

مرتده مطلقه چی مسلمانه سی نو ددوهم سړی سره واده کولی سی اوکه نه؟ سوال: (٧٢٨) يومسلمان سړی يوه هندوه ښځه مسلمانه کړه اونکاح يی ورسره وکړه خوښځه دخاوند دکوره بهر سوه اوبد دين ته ورغله چی خاوندته دامعلومه سوه نوده ښځی ته سمدست دری طلاقه ورکړل اوس ديوبل مسلمان سره ددی ښځی نکاح جائزده اوکه نه ؟ ځکه چی دابنځه مرتده سوی وه دده په مسلمانولو سره به مسلمانه سی اوکه نه ؟

جواب: که دابنځه مرتده سوی وی نودادی بيا مسلمانه کړی سی اوکلمه دی په وويل سی اوعدت دی تيره کړی نودهر مسلمان سره نکاح کولی سی اومطلقه ثلثه چی مرتده سی العياذ بالله نوددی داسلام راوړلو څخه وروسته که اول خاوند ورسره نکاح کول غواړی نوبيابه دحلالی ضرورت وی بغير دحلالی داول خانددپاره به داحلاله نه وی (فی الشامی توجه الشبه بين المسئلتين ان الردة واللحاق والسبی لم تبطل حکم الظهار واللعان کما لم تبطل حکم الطلاق (ردالمحتار باب الرجعة ص٥٢٨ ج٢). فقط

دتبرايی شيعه سره دسنی ښځی نکاح صحيح نه ده: سوال: (٧٢٩) زيد شيعه تبرايی دی چی پرحضرت عائشی صديقه رضي الله عنها تهمت لګوی او شيخينوته بدوايی او دخلافت منکر دی دده سره دهندی سنيه نکاح صحيح ده اوکه نه اوهنده دمهر اخيستو حقداره ده اوکه نه؟

جواب: دمذکوره شيعه سره دسنيه نکاح صحيح نه ده اوکه دخول سوی وی نومهر کامل دی . قال فی الشامی نعم لاشك فی تکفير من قذف السيدة عائشة رضي الله عنها اوانکر صحبة الصديق اواعتقد الالوهية فی علی رضي الله عنه اوان جبريل عليه السلام غلط فی الوحی اونحو

---

(١) وبهذا ظهر ان الرافضی ان کان ممن يعتقد الالوهية فی علی اوان جبريل غلط فی الوحی اوکان ينکر صحبة الصديق اويقذف السيدة الصديقة فهوکافر (رد المحتار فصل فی المحرمات ص ٢٩٨ ج٢. ط.س. ج٣ ص ٤٢).

(٢) بخلاف ما إذا كان يفضل عليا أو يسب الصحابة فإنه مبتدع لا كافر (ايضا ص٢٩٨ ج٢ ، ط.س. ج٣ ص٤٢) في البحر عن الجوهر معزيا للشهيد من سب الشيخين او طعن فيهما كفر ولا تقبل توبته وبه اخذ الدبوسي وابو الليث وهو المختار للفتوٰی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ص٤٠٤ ج٣. ط.س. ج٤ ص٢٣٧).

ذالك من الكفر الصريح ([1]) الخ باب المرتد وفی الدرالمختار فللموطوئة ولوحكما كل مهرها لتاكده ([2]) الخ. فقط

دشيعه سني په واده کې داولاد حکم: **سوال**: (۷۷۰) ديوسني سړی سره دشيعه ښځی يا دسني ښځی سره دشيعه سړی نکاح کيدی سی اوکه نه؟ اوکه وسی نواولاد به ولد الزنا وی اوکه نه؟

جواب: په تبرايي شيعه کی دډيرو عالمانو دکفر فتوٰی ده خومحققين احناف داوايي چی دوی ته دی مبتدع اوفاسق وويل سی کافردی ورته ونه ويل سی ولي چی کافر دنص قطعی منکر وی نوچی کم روافض دحضرت صديقه رضي الله عنها دافك اودحضرت علی رضي الله عنه دالوهيت قائل دی يادکفری عقائدو قائل دی دوی په اتفاق کافردی اوچی کم داسی نه دی صرف تبرايي دی هغه کافرنه دی ([3])، خوپه نکاح کی دی احتياط وسی چی دسنيه ښځی نکاح ددوی سره ونه سی اوکه وسی نواولاد به ولد الزنا نه وی اوداولاد نسب به دمور اودپلار څخه ثابت وی. ([4]) فقط

داثنا عشريه دفرقي سره نکاح صحيح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۷۷۱) اثناعشريه فرقه کافره ده او دمسلمانانو دسنيي ښځی سره ددوی نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دروافضومختلفي فرقی دی بعض غالی دی چی دحضرت علی رضي الله عنه دالوهيت قائل دی اودحضرت عائشی صديقی رضي الله عنها دافك قائل دی نوداپه اتفاق کافردی، اوبعضی شيخينو ته بد رد وايي نوبعض فقهآء خوديته هم کافر وايي دداسی روافضو سره دسنيه مسلمانی نکاح نه کيږی ([5]) بعضی صرف تفضليه دی نودا کافرنه دی که څه هم بدعتيان دی ددوی سره دسنيي نکاح کيږی ([6]). فقط

دتبرايي شيعه سره دواده څه حکم دی اوچی کم خلک په دی کی حصه واخلی دهغوی دپاره

([1]) رد المحتار باب المرتد مطلب مهم فی حكم ساب الشيخين ص۴۰۵ - ۴۰۲ ج۳ ، ط.س. ج۴ ص۲۳۷. ظ

([2]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المهر ، ج۲. ظفير

([3]) وبهذا ظهر أن الرافضي إن كان ممن يعتقد الألوهية في علي ، أو أن جبريل غلط في الوحي ، أو كان ينكر صحبة الصديق، أو يقذف السيدة الصديقة فهو كافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدين بالضرورة، بخلاف ما إذا كان يفضل عليا أو يسب الصحابة فإنه مبتدع لا كافر (ردالمحتار فصل في المحرمات ص۳۹۸ ج۲، ط.س. ج۳ ص۴۶). ظفير

([4]) وتقدم فی باب المهر ان الدخول فی النكاح الفاسد موجب للعدة وثبوت النسب (رد المحتار باب العدة ص ۸۳۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص. ۵۱۲). ظفير

([5]) وحرم نكاح الوثنية الخ وكل مذهب يكفر معتقده (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵). ظفير

([6]) ايضا .

څه حکم دی؟ سوال: (۷۷۲) داهل سنت والجماعت دښځی نکاح چی مور اوپلار یی هم سنیان دی دشعیه سړی سره چی دهغه پلار نیکه هم شیعه وی جائزده اوکه نه؟
۲. داچی دمذکوره ښځی اوسړی نکاح چی کم مولوی صاحب تړلی ده اوڅوك په کی حاضر وو نوددوی څه شرعی تعزیر سته اوکه نه؟ که وی نوڅه حکم دی؟

جواب: قال فی رد المحتار: وبهذا ظهر ان الرافضی ان کان ممن یعتقد الوهیة علی رضی الله عنه او ان جبرایل غلط فی الوحی اوکان ینکر صحبة الصدیق او یقذف السیدة الصدیقة فهو کافر لمخالفته القواطعَ المعلومة من الدین ضرورة بخلاف ما اذا یفضل عالیاً او سیب الصحابة فانه مبتدع لا کافر الخ ([1]) ص ۲۹۰. ددی عبارت څخه واضحه ده چی رافضی که دواقعیاتو منکروی لکه چی قائل دافك اودقذف دحضرت صدیقه رضی الله عنها وی نو کافردی دسنی مسلمانی نکاح دده سره صحیح نه ده بالکل باطله ده. لان اختلاف الملة مانع عن صحة النکاح. کذا فی کتب الفقه ([2]) اوواضحه دی وی چی شیخینو ته ښکنځل کولو ته هم بعض فقهاء کفر وایی. خوعند المحقیقن فسق دی اوکفرنه دی ([3]) خوکه دښکنځلو دشیخینو سره دابوبکر رضی الله عنه دصحابیت څخه هم منکر وی چی په نص قطعی ثابت دی کفردی، اوتبرا ویونکي غالبا دحضرت صدیقی رضی الله عنها دافك اودقذف قائل دی اوپه دی سره خوشحالیږی نودداسی رافضی په کفر کی هیڅ شك نسته اودده سره دسنی مسلمانی نکاح صحیح نه ده، اوچی کم خلګ سره دعلمه نکاح تړلي اوشاهد او وکیل سویدی هغه فاسقان سوه توبه دی وکاږی اوپه مینځ دښځی اوخاوند یعنی درافضی خاوند اودسنی مسلمانی ښځی کی دی تفریق وکړی اوهمدا ددوی دپاره کفاره ده. فقط

پلارشیعه ته په نکاح بیا یې بل ته په نکاح کړه نوڅۀ حکم دی؟ سوال: (۷۷۳) یوسړی دخپلی لور نکاح دشیعه سړی سره وکړه چی دده عقائد باطل دی یعنی دافك دحضرت عائشی رضی الله عنها قائل دی اوسب دشیخین کوی الی غیر ذالك. ددی انجلی پلار داخیال وکی چی داسړی شیعه مسلمان نه دی ددی وجه څخه نکاح صحیح نه سوه نوده دخپلی لور نکاح دیو بل سنی سړی سره وکړه نودوهمه نکاح صحیح ده اوکه اوله؟

جواب: چی کم روافض سب دشیـــــخین کوی نوددوی په کفر کی دعالمانو اختلاف دی

([1]) رد المحتار فی المحرمات ص ۳۹۸ ج ۲ ، ط.س. ج۳ ص ۴۲. ظفیر

([2]) وحرم نکاح الوثنیة الخ وکل مذهب یکفر معتقده (رد المحتار فصل فی المحرمات ۳۹۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵). ظفیر

([3]) بخلاف ما اذا کان یفضل علیا اویسب الصحابة فانه مبتدع لاکافر (ایضا ص۳۹۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴۲).

بعضى فقهاء ورته كافر وايي اومحققين فقهاء دعدم تكفير قائل دي خوچي كم روافض دافك دصديقه قائل دي هغه په اتفاق كافردي دارنگه دغالي روافضو بعضي نور عقائد لكه داچي جبرئيل عليه السلام په وحى رسولو كي غلط سويدى يا حضرت علي رضي الله عنه خداى وو، وغيره وغيره داعقائد په اتفاق داهل سنت كفردي، په درمختار كي دي: في البحر عن الجوهرة معزيا للشهيد من سبب الشيخين اوطعن فيهما كفر ولاتقبل توبته وبه اخذ الدبوسى وابوالليث وهوالمختار للفتوىٰ انتهى وجزم به فى الاشباه واقر المصنف (الى ان قال) لكن فى النهر وهذا لا وجود له فى اصل الجوهرة وانما وجد على هامش بعض النسخ فالحق بالاصل مع انه لا ارتباط له بما قبله انتهى (درمختار ص ۴۰۴ - ۴۰۵ ج۲) قال الشامي تحت قوله لكن في النهر الخ وإذا كان كذلك فلا وجه للقول بعدم قبول توبة من سب الشيخين بل لم يثبت ذلك عن أحد من الأئمة فيما أعلم (الى ان قال) على ان الحكم عليه بالكفر مشكل (ثم قال في آخر كلامه تحت القول المذكور) نعم لا شك في تكفير من قذف السيدة عائشة رضي الله تعالى عنها أو أنكر صحبة الصديق ، أو اعتقد الألوهية في علي أو أن جبريل غلط في الوحي ، أو نحو ذلك من الكفر الصريح المخالف للقرآن الخ ص۴۰۵ - ۴۰۷) نوپه صورت مسئوله كي اوله نكاح چي دداسي غالي شيعه سره سويده صحيح نه سوه بلكى باطله سوه اودوهمه نكاح وسوه. فقط

سني ښځه دشيعه سره واده سوه اوس څه وكړي؟ سوال: (۷۷۴) يوه ښځه سنيه مذهب والا يوشعيه سړي ته په نكاح سوه دده دجبر او داكراه او دبدلولو دمذهب او دطريقو وغيره څخه تنگه ده اودجدايي طلبگاره ده دى طلاق نه وركوى په داسي صورت كي مذكوره ښځه ديوبل سني سړي سره نكاح كولى سى اوكه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفيق دشيعه فرقى په تكفير اوعدم تكفير كي اختلاف دى والاصح عدم التكفير اوبعض فقهاء ددوى حكم داهل كتاب په شان وايى نوبناء په دي صورت مسئوله كي دسني مسلماني ښځي نكاح ددي شيعه سره نه ده سوي (۱) مذكوره ښځه دخاوند دطلاق څخه بغير خپل دوهم عقد كولى سى اوسني لره خپل لور شيعه ته واده كول صحيح نه دي. فقط

په لاندينى صورت كي څۀ حكم دى؟ سوال: (۷۷۵) يوه ښځه مسلمانه سوه چي كله ددى

---

(۱) داحكم غالبا دهغه روافضو متعلق دي چي دضرورياتو ددين څخه انكار كوى لكه چي دشامى دراتلونكى عبارت څخه مستفاد ده اوپه خپله دمفتى صاحب په فتوىٰ كي هم ددى تفصيل دى. كني چي كم شيعه صرف دتفضيل دعلى رضي الله عنه قائل دي او دضرورياتو ددين څخه منكرنه دي پرهغوى دكفر فتوىٰ نسته اونه دعدم انعقاد دنكاح لكه چي دحضرت مفتى صاحب دوهمه فتوىٰ پردى شاهد ده. بنده محمد شفيع غفرله محرم سنة ۵۴ هـ ق

خاوند ته اسلام وړاندی سو نوده انکار وکی ددی وجه څخه تفریق وسو نوروسته سړی هم مسلمان سو اوپه یوسل او پنځه ویشتو کلدارو باندی نکاح وسوه په دی شرط چی په فلانی مقام کی به اوسیږم چی کم ځای اسلام اومسلمانان وی انچولی ته به نه ځم وروسته بیا سړی ښځه انچولی ته بوتلل غوښتل خوښځه ورسره ولانه ړه نو دی نو مسلمان سړی خلګو ته داوویل زه دښځی دوجه څخه بی دینه سوم بیاهم مولوی صاحب ښځه ماته نه سپاری اتو سړیو ددی خبری شاهدی ورکړه پردې باندې دې نو مسلمان وویل داټول شاهدان زما څټ پرې کوی یوه ورځ به زه هم ددوی څټونه پر سیتلاؔ (دبت په مخکی چی پرکم ځای هندوان قربانی کوی) پرې کړم، وروسته بیادی نومسلمان توبه وکښله په دی صورت کی دانومسلمان کافر اومرتد سو اوکه نه؟ اوښځه به ده ته دتازه کولو دنکاح څخه وروسته سپارل کیږی اوکه څه به کیږی؟ اوپه تازه کولو دنکاح کی دښځی رضامندی ضروری به وی اوکه نه؟ اونوی مهر به مقریږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی حکم دکفر اودارتداد به په دی نومسلمان نه کیږی اوچی کله حکم دکفر ونه سو نونکاح هم باطله نه سوه خوښهٔ داده چی تجدید دنکاح وسی اونوی مهر مقرر سی خوښځی ته دانکار حق نسته ځکه چی اوله نکاح په حقیقت کی فسخ نه ده ځکه چی دامتفرع ده پرکفر اوپر ارتداد اودا ثابت نه دی اودمسلمان دتکفیر حکم دی حتی الوسع ونه لګول سی چی ترڅو څه لاره پکښی وی اودمخکی جملی څخه خپله ددی سړی انکار ثابت دی ځکه چی دده داویل چی داشاهد زما څټ پرې کوی دمذکوره الفاظو په ویلو سره که څه هم انکار صرف محتمل دی خوبیا هم دی احتمال لره به ترجیح ورکول کیږی اودوهمه جمله هم موجب دکفر او دارتداد نه ده که څه هم چې ګناه ده. فقط

شپږم فصل

حرمت دنکاح په سبب دحق دغیر

دبل دمنکوحی سره نکاح جائز نه ده: **سوال**: (۷۷۲) محمدخان ګلکار چهجوخپل زوی کړی اوګلکاري یې ورته وښووله چی کله دمحمد خان ښځه مړه سوه نوده دچهجو ښځه دځان سره وساتله اوچهجو ته یی نه پریږدی چهجو په جرګه کی دخپلی ښځی اخیستو دعوه وکړه اوچهجو خپلی ښځی ته طلاق نه دی ورکړی محمد خان یوقاضی ته سل روپی ورکړی اوخپله نکاح یی وتړله نوپه دی صورت کی داښځه دچهجو ده اوکه دمحمدخان؟

جواب: چی چهجو ښځی ته طلاق نه دی ورکړی اوبله څه وجه دفسخ دنکاح هم نسته نودا ښځه دچهجو ښځه ده دمحمد خان سره ددی نکاح باطله ده اوداښځه چهجو ته رسیدل پکار دی (١). فقط

دغیر مطلقه سره واده او ددی دمعاون حکم: **سوال**: (۷۷۷) هندی ته ددی خاوند طلاق نه دی ورکړی ځوورځی یی اواره ګردی کوله بیا یوبل سړی ددی سره بی دطلاقه نکاح وکړه نودده سره خوراك چښاك ناسته پاسته کول شرعًا جائزدی اوکه نه؟ څه خلګو قصدًا هلته خوراك وکی ددوی سزا څه ده اویوسړی تهمت دعیب ولګوی اوجرمانه یی واخیستله نو مستحق دسزاسو اوکه نه اودتپولی کورنی دولت دری کسانو غلاکی ددوی سزا څه ده؟

جواب: دبل دمنکوحی سره بی دطلاقه نکاح کول حرام اوباطل دی دوی فاسقان سوه توبه دی وکاړی اودا ښځه دی جلا کړی همدا ددوی کفاره ده (٢) اوچی کم سړی په خوراك کی شریك سو هغه دی هم توبه وکاړی ددې ځخه وروسته به ددوی ګناه معاف سی اومالی جرمانه اخیستل په شریعت کی ناروا دی (٣) اوتهمت لګول کبیره ګناه ده او جرمانه دی واپس کړی اومعاف دی کړی اودغلو سزا داده چی توبه دی وکاړی اوملا دی واپس کړی او حدود په دی ملك کی جاری نه دی (٤) . فقط

دبل دمنکوحی سره واده اوددی ځخه چی کم هلک پیداسو دهغه حکم: **سوال**: (۷۷۸) هنده خپل دوهم عقد دعدی دتیریدو ځخه وروسته دزید سره وکی دری میاشتی وروسته زید په جنګ ولاړی ددی ځخه وروسته هنده دری یاڅلور میاشتی وروسته خپل عقد دعمر سره وکی اوحال دادی چی عمر اوټولو خلګو ته پته وه چی ددی خاوند په جنګ کي دی زید دجنګ ځخه بیرته راغلی دی نودا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟ اودده دمددګارو خلګو شرعًا څه حکم دی؟ اودعمر ځخه چی کم هلك پیدا سویدی هغه حلال دی اوکه حرام؟ اودصحیح النسب انجلی سره دده نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دهندی نکاح دعمر سره صحیح نه ده سوی بلکی باطل اوناجائزده کذافی کتب الفقه، اوکه وطی سوی وی نودازناده دزید په راتلو به داښځه ده ته ورکول کیږی هنده اوعمر اوددوی مدد ګار ټول فاسقان اوګنهګاران سو توبه دی اوکاړی دهلك نسب به

---

(١) اما نكاح منكوحة الغير الخ فلم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (رد المحتار باب المهر ص۴۸۲ ج۲). ظفير

(٢) اما نكاح منكوحة الغير الخ فلم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا ولهذا لا يجب الحد مع العلم بالحرمة لكونه زنا (رد المحتار باب المهر ص۴۸۲ ج۲). ظفير

(٣) لا باخذ المال فی المذهب (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب التعزیر ص۲۴۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص۲۱).

(٤) لانه لا حد بالزنا فی دار الحرب (ایضا كتاب الحدود ص۱۹۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵). ظفير

دعمر څخه ثابت نه وی اودی دصحیح النسب انجلی کفونه دی باقی چی په کمو صورتونو کی دغیر کفو سره نکاح صحیح ده، دده سره هم کیدی سی، دغیرکفو سره نکاح داسی کیږی چی انجلی که بالغه وی داهم راضی وی اوددی اولیاء هم راضی وی نودغیرکفر سره نکاح هم کیږی.

بغیر دطلاق دمنکوحي ښځه دوهمه دریمه څلورمه اوپنځمه نکاح صحیح نه ده: سوال: (۷۷۹) یوی ښځی خپل خاوند پریښووی اودنمبر ۲ سره یی اشنائی وکړه دوه کاله وروسته یو هلك پیداسو بیایي نمبر ۲ پرې ښووی اودنمبر ۳ سره یی نکاح وکړه ده هم طلاق ورکړی بیایی دنمبر ۴ سره نکاح وکړه اوبیایی ۴ هم پریښووی اودنمبر ۵ سره یی دنکاح اراده وکړه اویو جاهل قاضی نکاح وتړله قاضی جاهل وو نوچی څومره خلګ هلته موجود وه هغوی وویل دانکاح ونه سوه اودښځی څخه یی پوښتنه وکړه هغې وویل زما خاوند ماته طلاق راکړیدی اوعده ختم سویده نوچی کم خلګ په دی نکاح نمبر۵ کی شریك وه دوی ګنهګار سوه اوکه نه؟ اوددوی نکاح ماته سوه اوکه نه؟

جواب: چی کله مخکی خاوند طلاق نه دی ورکړی ددی ښځه وروسته ددی ښځی یوه نکاح هم نه ده سوی نودنمبر ۵ سره چی کمه نکاح وسوه هغه باطله اوناجائز ده آخری خاوند لره پکاردی چی ددی ښځه جلاسی اوترڅو چی داول خاوند طلاق ورکول ثابت نه سی ترهغه وخته دی ورسره نکاح نه کوی (۱) باقی چی کمو خلګو ته دحقیقت حال علم نه وو نوپه هغوی هیڅ ګناه نسته اونه ددوی نکاح ماته ده. فقط

چی کمه نکاح صرف یوه ګهنټه یادوی ګهنټی دعدی څخه مخکی وسی نودا نکاح جائزده او که نه؟ سوال: (۷۸۰) دزید نکاح صرف یوه ګهنټه یادوی ګهنټی دعدی څخه مخکی وسوه یعنی دعدی دتیریدو څخه مخکي په غلطی سره وسوه نونکاح نافذه سوه اوکه نه؟

جواب: دانکاح نافذه اوصحیح نه ده. کما فی عامة المعتبرات (۲) . فقط

په عده کی چی کمه نکاح وسی دهغه داولاد نسب: سوال: (۷۸۱) یوه سړی په عده کی نکاح وکړه اوددی څخه اولاد وسو ده ته دامعلومه سوه چی دانکاح په شرع کی جائزده نودانکاح وسوه اوکه نه؟ اوداولاد نسب به ثابت وی اوکه نه؟ اووارث به وی اوکه نه؟

جواب: په زمانه دعدی کی نکاح باطله ده خونسب ثابت دی اولاد به یی وارث وی (۳).

---

(۱) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ فلم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (رد المحتار باب المحرمات ص ۴۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۳۲). ظفیر

(۲) اما نکاح منکوحة الخ ج۳ ص۵۱۲ باب العدة . ظفیر

(۳) وتقدم فی باب المهر ان الدخول فی النکاح الفاسد موجب للعدة وثبوت النسب (رد المحتار باب العدة =

دغیر دمنکوحی سره نکاح ته چي څوک صحیح وايي دهغه متعلق څه حکم دی؟ سوال:
(۷۸۲) یوه ښځه منکوحه دبیکانیر څخه اجمیر شریف ته دخپلی ترور کره راغله دتاراپور قاضي دا ښځه داجمیر شریف څخه وتښتوله اوتارا پور ته یې راوستله اوددی سره یې نکاح وکړه حال دادی چې اول خاوند ورته طلاق نه دی ورکړی، اودی ددی نکاح حلاله وايي، په کتب اوعقائدو کې مصرح ده چې دکم شی حرام کیدل په قرآنکریم یاپه احادیث متواتر سره ثابت وی هغه ته حلال ویونکی به کافروی ددی وجه څخه په دی صورت کې ددی نکاح او دناکح منکوحة الغیر په باره کې شرعا څه حکم دی آیا ناکح کافرسو اوکه نه دده سره باید څه معامله وسی؟
جواب: قال في رد المحتار (۱) الخ ص **۳۵**: ومثله في عامة كتب الفقه. حاصل داچې دمنکوحة الغیر سره بې دطلاقه اودعدی تیریدو څخه نکاح صحیح نه ده اودا نکاح نه منعقده کیږی اوحرمت دمنکوحة الغیر قطعی دی لکه چې دآیت د: والمحصنٰت (۲) څخه ثابته ده ددی وجه څخه ناکح مذکور فاسق اومرتکب دکبیره دی خو چې په تکفیر دمسلمان کې فقهاء ډیر احتیاط کوی اوفرمايي چې په یو سړی کې که یوکم سل وجهي دکفر وی اویوه وجه دمسلمان اوداسلام وی اودا هم ضعیفه وی نومفتی لره وعدم تکفیر ته میلان لازم دی (۳) اوچې په صورت مذکوره کې تاویل ممکن دی، ددی وجه څخه دتکفیر څخه محفوظ کیدل پکاردی اودی سړی ته دی کافر ونه ویل سی اومعامله دی دمسلمانانو ورسره وسی اوده ته دی فاسق اوعاصي وویل سی اوتوبه دی باندی وکاږی.

خاوند پاګل وي او دنان او نفقي خبر نه اخلي نوآيا ښځه دوهمه نکاح کولي سي اوکه نه؟

سوال: (۷۸۳) زید دشپږو کالو راهیسی پاګل دی اوپه دی حالت کې دښځې دنان اونفقه خبر نه سی اخیستی په داسی حالت کې دده ښځه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟
جواب: دمجنون ښځه دوهمه نکاح (۴) نسی کولی خوکه دمجنون سره څه مال او جائیداد وی نوددی څخه به دښځې خرچه کیږی.

= ص **۸۳۵** ج۲. ط.س. ج۳ ص **۵۱۲**). ظفیر
(۱) رد المحتار فصل في المحرمات ص ۴۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۳۲. ظفیر
(۲) سورة النساء رکوع : ۴. ظفیر
(۳) وقد ذكروا ان المسئلة والمتعلقة بالكفر اذا كان لها تسع وتسعون احتمالا لكفر واحتمال واحد في نفيه فالاولى للمفتي والقاضي ان يعمل بالاحتمال النافي لان الخطاء في ابقاء الف كافر اهون من الخطآء في افتاء مسلم واحد الخ (شرح فقه اكبر ص۱۹۹). ظفیر
(۴) ولا يتغير احد الزوجين بعيب الاخر ولو فاحشا كجبون وجذام وبرص ورتق وقرن (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۸۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۰۱). ظفیر

دوهمه نکاح دمنکوحې په زور وسوه جائزنه ده: سوال: (۷۸۴) کونډې هندې خپله نکاح په خپلی رضاسره وکړه اوشاهد هم سته اوس دا ښځه چاپه وهلو ټکولو دنکاح څخه منکره کړه اوپه نکاح خوان یې هم انکار وکی اوس دانکاح خوان ددی ښځی نکاح دبل سړی سره کوی حال دادی چی دی دمخکی نکاح هم اقرار کوی خودزور دوجه څخه منکردی یوعالم صاحب وایی چی کله دا ښځه منکره ده نونکاح فسخ کیدی سی نوپه دی صورت کی څه حکم دی اودښځی سره مخکی خاوند هم خلوت کړی دی؟

جواب: دبالغي کونډې نکاح ددی په خپلي رضا اوپه اجازه سره په کفو کی صحیح ده او چی کله دوه عادل شاهدان هم سته نودښځی انکار شرعًا معتبر نه دی (۱) اوپه دې صورت کی ددوهم سړی سره ددی نکاح جائزنه ده اونکاح کوونکی اوشرکاء وغیره ټول فساق اوعاصیان دی که دوه شاهدان معتبر دمخکنی نکاح نسته اوښځه منکره ده نوبیا دغه نکاح ثابته نه ده په داسی حالت کی دیوعالم دفسخ یادعدم جواز حکم کول صحیح دی. فقط

چی چاته دتورو اوبو سزا وسوه دهغه ښځه دوهم واده کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۷۸۵) یو سړی په حکم دسرکار تورو اوبو ته ولیږل سو اوس یې دراتلو څه امید نسته نودده دښځی دوهمه نکاح کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: ترڅو چی دغه سړی ژوندی دی یایی طلاق نه دی ورکړی تردغه وخته پوری دده ښځه دوهمه نکاح نه سی کولی دانکاح به شرعًا باطله وی (۲). فقط

دنکاح کولو څخه وروسته په انکار کولو سره نکاح پاته کیږی اوکه نه؟ سوال: (۷۸۶) یو سړی دخپلی لور نکاح په یوځای کی وکړه وروسته دڅه وجه څخه لور اوپلار دواړه منکر سوه په دی صورت کی دانکاح صحیح پاته ده اوکه نه؟

جواب: چی دچاسره یی مخکی نکاح سویده هغه صحیح سوه بل ځای ددی نکاح صحیح نه ده اودنکاح څخه وروسته دولی یا دانجلی په انکار سره مذکوره نکاح نه فسخ کیږی که خاوند دعوه وکړه نو خپله ښځه بیولی سی. فقط

مطلقی دطلاق څخه وروسته دوهمه نکاح وکړه اوس په ذریعه دعدالت یی بیا دا ښځه حاصله کړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۸۷) خلاصه دسوال داده چی میان دین خپلی ښځه بتولن

---

(۱) فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضاء ولی الخ وله الاعتراض فی غیر الکفو (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ص ۴۰۷ – ۴۰۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۵). ظفیر

(۲) امانکاح منکوحة الغیر الخ فلم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (رد المحتار باب العدة ص ۸۳۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۱۲). ظفیر

ته په خط کی طلاق ولیکی اووی لیږی ښځی دوهمه نکاح وکړه ددی ځخه وروسته چی کله میادین کوته راغی نو رپورټ یی وکی چی زما ښځه نسته عدالت بتولن میادین ته ورکړه نودا ښځه دمیا دین دپاره حلاله ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی موافق ددې طلاق نامې چی دا طلاق نامه یامیادین په خپله لیکلی وی یایې په دوهم سړی لیکلی دی اوده ددی تصدیق کړی وی اوپه رضایی دستخط کړی وی نوپردی ښځی طلاقِ بائن واقع سو (١) اودعدی ځخه وروسته یی چی دکم دوهم سړی سره نکاح کړیده هغه صحیح سوه اوس داښځه دمیادین دپاره حلاله نه ده خوکه خلګو ته ده دطلاق نامه لیکلو ځخه انکار وکی یا ددی دنه منلو ځخه یې انکار وکی اودوه شاهدان عادلان هم نه وه نوبیا داښځه میادین لره حلاله ده. فقط

نکاح وسوه اوګوته ونه لګیده نوځه حکم دی؟ **سوال**: (۷۸۸) دیوی ښځی نکاح سویده خو په وخت دنکاح پرسرکاری رجسټرباندی ګوتی ونه لګول سوی اوس مذکوره ښځه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: چی کله ددی ښځی نکاح سویده نوددوهم سړی سره ددی نکاح باطله اوحرامه ده ځکه چی دمنکوحة الغیر نکاح حرامه ده کما قال الله تعالی: والمحصنات من النسآء. الاية (سورة النساء : ۲۴). فقط

دخاوند ځخه عاجزه سوه او دزناکاری کسب یې شروع کړی اوس ددوهم سره ددی نکاح کیدی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۷۸۹) یوه ښځه دخپل خاوند دبی پرواهی ځخه په دام دمصیبت کی ګیر سوه اودحکومت ځخه یی سند حاصل کی اوپه بازار کی یی ناجائز کار شروع کړی اوس دادوهمه نکاح کول غواړی نودی ته دطلاقو ضرورت سته اوکه نه؟ (۲) که یوسړی خپله خوښینه په نکاح کي وساتی اوبچی هم پیداسی اومنکوحه بغیر دطلاقو ځخه پریږدی نوښځی ته طلاق حاصل سو یا دطلاق اخیستو ضرورت سته؟

جواب: دطلاق اخیستو ضرورت سته بغیر دطلاقه دی لره بله نکاح کول جائزنه دی (٢).

۲. دطلاق اخیستو ضرورت یې سته بی له طلاقــه مخکــنی ښځه دنکاح ځخه نه وزی او

(١) کتاب الطلاق ان مستبینا علی نحو لوح وقع ان نوی وقیل مطلقا وعلی نحو الماء فلا مطلقا ولو کتب علی وجه الرصالة والخطاب کان یکتب یا فلانة اذا اتاك کتابی هذا فانت طالق طلقت بوصول الکتاب (درمختار) اما ان ارسل الطلاق بان کتب اما بعد فانت طالق فکما کتب هذا یقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الکتابة (رد المحتار کتاب الطلاق ص ۵۸۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۴۲). ظفیر

(٢) ترځو چی خاوند طلاق نه دی ورکړی دخاوند ښځه ده که ځه هم دحرام کاری کسب اختیار کړی. واما نکاح منکوحة الغیر الخ لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (رد المحتار ص۳۸۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۱۲). ظفیر

دخوښینی په موجوده حالت کی ساتل جائز نه دی. ([1]) فقط

چی کله نکاح سویده نودانګریزی عدالت په فیصله دانه سی ختمیدی: **سوال**: (۷۹۰) دهندی دیوسړی سره نکاح سویده خودوه دری کاله وروسته دنکاح ښځه منکره سوه دخاوند کور ته نه ځی خاوند مجبوره سو دعوٰی یی په عدالت کی دائره کړه حاکم شاهدان واخیستل اودا فیصله یی وکړه چی ماته دنکاح کیدو اعتبار نسته اوس هنده ددوهم سړی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: که نکاح په حقیقت کی سوی وی نودښځی په انکار نکاح نه ماتیږی ددی ښځی دبل سړی سره نکاح صحیح نه ده چی دې ته معلومه ده چی زما نکاح داول سړی سره سویده باقی ثبوت عند الحاکم په دوو شاهدانو عادلانو کیدی سی ([2]) نوچی خاوند دعوه دنکاح وکړی اوښځه انکار نوسړی که دوه عادل شاهدان دنکاح پیش کړل نونکاح به ثابته وی ده لره داصحیح نه دی چی دابی له طلاق ورکولو ښځه دمخکنی خاوند بغیر دبل چاسره نکاح وکړی. قال فی الشامی اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته فالدخول فیه لایوجب العدة ان علم انها للغیر لانه لم یقل احد بجوازه اصلاً ([3]) الخ ص۳۵۰ ج۲. فقط

چی کله خاوند تردولسو کالو پوری خبر وانه خلی نودوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۷۹۱) کونډی رحمت دخپلی لور چراغی نکاح دبندو سره وکړه چی ددی دولس کاله وسوه بندو مذکور دښځی هیڅ خبر وانه خیستی بلکی خواته یې هم ورنغی اونه طلاق ورکوی اونه یی خبر اخلی انجلی ځوانه ده دخاوند کورته تلل نه غواړی ددی مورهم داپه بل ځای کی په نکاح کول غواړی په دی صورت کی چی کم حکمِ شرعی وی مهربانی وکړی ددی ښځه موخبر کړئ !

جواب: شرعی مسئله په دی صورت کی داده چی رحمت نومي ښځه چی کله جائز ولی دچراغی نابالغه وه اوپه هم دی حالت کی یی دڅراغی نکاح دبندو سره وکړه دانکاح صحیح سوه ([4]) اوس چی ترڅو بندو طلاق ورنه کړی یا مړنه سی چراغی لره دوهمه نکاح

([1]) دخوښینی سره یې چی څه وکړل هغه زنا ده او دښځی رشته په طلاق ختمیږی. ظفیر

([2]) ونصابها (ای الشهاده) لغیر هامن الحقوق سواء کان الحق مالا اوغیره کنکاح وطلاق ووکالة الخ رجلان او رجل وامرأتان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ص۵۱۵ - ۵۱۲ ج۴، ط.س. ج۳ ص۴۲۴ و۴۲۵). ظفیر

([3]) وګوری رد المحتار باب العدة ۸۳۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۱۲. ظفیر

([4]) په بهار راوړویه کي چي قاضی دشریعت ته درخواست ورکړی نوفسخ دنکاح کولی سی اوپه نورو صوبوکی دمسلمانانو دجرګی په ذریعه چی په هغه کی دیوعالم کیدل ضروری دی، وګوری حیلة الناجزة از تهانوی یاکتاب الفسخ والتفریق از مولانا رحمانی. ظفیر

کول صحیح نه دی چی هرڅنګه وی دبندو څخه دي جبراً او قهراً طلاق واخیستل سی.

منکوحه چي بی طلاقه کمه دوهمه دریمه نکاح وکړي هغه صحیح نه سوه: سوال: (۷۹۲) امرأة بالغة زوجت نفسها بامر ابيها فصحب بها الزوج مدة ودخل بها مرارا ثم فر منه الى ديار آخر فزوجها الثاني ولم يطلقها الاول فولدت بنتا ومات الزوج الثاني ثم زوجها الثالث فولدت بنتين وزوجها الاول حی طالب وهی راغبة فهل النكاح الاول باق ام لا وهل صح الثاني والثالث وكيف حال البنات وكيف المصلحة فيه ؟

جواب: النكاح الاول باق ولم يصح النكاح الثانی والثالث والبنات للثانی والثالث وترد الزوجة الى الاول فالاولاد للثانی على المذهب الذی رجع اليه الامام وعليه الفتوٰی كما فی الخانية والجوهرة والكافی. (۱) فقط

دولی په اجازه سره دنابالغ نکاح کیږی او دابی طلاقه دوهم واده نه سی کولی: سوال: (۷۹۳) داتو کالو دانجلی واده کول صحیح دی اوکه نه؟ اوچی دشپږو کالو په موده کی صرف دیوی ورځی دپاره تللی وی که دخاوند مرضی نه وی نوآیا دطلاق اخیستو څه صورت سته اوکه نه؟

جواب: داتوکالو په عمر کی که دانجلی واده پلار یاولی کړی وی نونکاح صحیح سوه اوس چی ترڅو دخاوند دبالغیدو څخه وروسته طلاق ورنه کی تردغه وخته پوری دغه انجلی دده دنکاح څخه نه سی وتلی دده ښځه ده بی دطلاق ورکولو دخاوند څخه بل ځای نکاح نه سی کولی (۲). فقط

خاوند دغلا دوجه جیل ته ولاړسی نوښځه دوهم واده کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۷۹۴) زما دلور واده په بهرت پورکی دیوسړی سره وسو دغه سړی جواګر اوغل دی، ددی وجه څخه ده ته ددوو نیمو کالو سزاسویده زما لورپه داسی حالت کی بله نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دخاوند څخه دی طلاق واخیستل سی بی دطلاق ورکولو څخه دخاوند دوهمه نکاح به صحیح نه وی. فقط

که دیو سرکاري عدالت څخه دخاوند خلاف فیصله واخیستل سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۹۵) زید هنده چی دده ښځه ده دپلار کره پرېښووله یوپردی سړی جبراً او قهراً دزید

---

(۱) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ص۸۲۸ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۵۲ ، لو عاد حيا بعد الحكم بموت اقرانه قال الطحطاوي الظاهر انه كالميت اذا احي والمرتد اذا اسلم الخ ونقل ان زوجته له والاولاد للثاني (ردالمحتار كتاب المفقود ص۴۵۸ ج۳، ط.س. ج۴ ص۲۹۷). ظفير

(۲) وللولی انكاح الصغير والصغيرة جبراً ولو ثيباً الخ ولزم النكاح ولو بغبن فاحش (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الولی ص۴۱۷ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۶۵). ظفير

ښځه بوتله اوځلور میاشتی یی په خپل کورکي وساتله زید په عدالت کی دعوه وکړه او فیصله دزید خلاف وسوه نوپه دغه صورت کی دغه باری سړی دهندی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دزید خلاف په فیصله کیدو باندی دزید ښځه دنکاح څخه نه وزي اودا سړی دپردۍ ښځي سره نکاح نه سي کولی سي ځکه چي دمنکوحة الغیر سره نکاح حرامه ده، قال الله تعالی: والمحصنٰت من النسآءِ ، الآیه [1] یعنی دخاوند والا ښځی سره نکاح حرامه ده. فقط

نیکه (دپلار پلار) دلمسۍ نابالغي نکاح وکړه خو اوس یی خاوند خبرنه اخلی باید څه وسی؟

سوال: (۷۹۶) یونابالغه انجلی یتیمه ددری کالو نکاح ددی نیکه په خپل قوم کی وکړه چی دهغه څوارلس کاله وسوه تراوسه پوری دهلك والاوو څوك سړی واپس نه دی راغلی نه یی دانجلی دډوډی اودجامی خبر اخیستی دی خومعلومه سویده چی دغه هلك اودده مور ژوندی دی په داسی حالت کی ددی انجلی نکاح بل ځای کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په داسی حالت کی دانجلی نکاح عند الاحناف بل ځای صحیح نه ده، که خاوند طلاق ورکړی نودعدی تیریدو څخه وروسته دوهمه نکاح کولی سی بی دطلاق اخیستو څخه یې نه سی کولی. کذافی الدر المختار [2]. فقط

دخاوند په موجودګی کی چی دکم پردی څخه یی حمل وسو دهغه سره نکاح: **سوال**:

(۷۹۷) دزید دهندی سره نکاح وسوه څومیاشتی دخپل خاوند کره اوسیده اوبیا درشته دارانو کره راغله اوڅوکاله اوسیده څه ورځی وروسته دهندی اودخالد تعلق وسو دخالد څخه دهندی حمل وسو دحمل څخه دری میاشتی وروسته دهندی رشته دارانو خالدته دزید دانتقال خبر ورکی اودومره موده وروسته یی ورکړه چی دعدی دورځو برابری وی نوپه دی صورت کی ددواړو نکاح صحیح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دهندی نکاح دخالد سره دبچی دپیدا کیدو څخه وروسته کیدی سی ددې څخه مخکی صحیح نه ده ځکه چی مسئله داده چی دخاوند دمرګ څخه وروسته که په دوو کالو کی بچی پیداسی نونسب ددی متوفی خاوند به ثابتیږی [3] کمافی الدرالمختار

---

[1] سورة النساء: ۴. ظفیر

[2] په داسي حالت کي چي زوج نه حقوق ادا کوي اونه طلاق ورکوي نوکم ځای چی محکمه دقضا دشریعت دامیر تر نګراني لاندي موجوده وي هلته دقاضي په ذریعه اوکه دانه وي نو دمسلمانانو داتحادیې په ذریعه دي نکاح فسخ کړي بیادي نوي نکاح وکړي، دپوره تفصیل دپاره وګورئ: الحیلة الناجزة اوکتاب الفسخ والتفریق. ظ

[3] الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۰، ط.س. ج۳ ص۵۴۳. ظفیر

ویثبت نسب ولد معتدة الموت لاقل منهما من وقته ای الموت اذا کانت کبیرة ولوغیر مدخول بها الخ باب ثبوت النسب وفیه ایضا من العدة وفی حق الحامل مطلقا ولوامة او کتابیة اومن زنا بان تزوج حبلی من زنا ودخل بها ثم مات الخ وضع جمیع حملها الخ ([1]).

دخاوند په وجود کی بی طلاقه دوهمه نکاح باطله ده دخاوند دمرګ څخه وروسته چی دچا سره وغواړی واده کولی سی: **سوال**: (۷۹۸) یوی ښځی خپل خاوند چی ژوندی دی پریښووی اودبل سړی سره یی نکاح وکړه اومخکی خاوند طلاق نه وو ورکړی اوس په مخکی خاوند مړسو اوس ددوهم خاوند سره یی نکاح صحیح ده اوکه نه؟ زیات مستحق ددی دنکاح څوك دی اوښځه ددریم سره هم نکاح کولی سی اوکه نه هم دغه دوهم مستحق دی؟

جواب: ددوهم سړی سره ددی نکاح باطله ده مخکی نکاح قائمه ده دمخکی خاوند دمرګه وروسته چی عده څلورمیاشتی اولس ورځی پوره سی نوچی دچا سره ددی خوښه وی نکاح کولی سی ددی دوهم سړی چی په خپل کورکی یی ساتلی ده هیڅ حق نسته بلکی ددی په دی فعل سره فاسق اوعاصی سو . فقط

وران خاوند هم چی ترڅو طلاق ورنه کړی دوهمه نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۷۹۹) دشپږو کالو راهیسي داسی سویده چی زما خاوند دورانی دوجه زه پریښی یم دخرځ خوراك څخه ډیره مجبوره یم اوریدلی می دی چی هغه زه په یوی ډمی خرڅولم په دی صورت کی دوهمه نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی هرڅنګه کیدی سی دخاوند څخه دی طلاق واخیستل سی دطلاق اودعدی تیریدو څخه وروسته به دوهمه نکاح صحیح وی دطلاق څخه مخکی ښځی لره دوهمه نکاح صحیح نه ده ([2]). فقط

بی له طلاقه دپنځلسو کالو راهیسی دبل په کور کی ده آیا دده سره نکاح کیدی سی؟ سوال: (۸۰۰) یوه ښځه تقریبا دپنځلسو کالو څخه تللی ده دبل په کورکی آباده ده اوخاوند ورته تراوسه طلاق نه دی ورکړی ددی ښځی نکاح ددی سړی سره کیدی سی چی دچاپه کورکی اوسیږی؟

جواب: دمخکنی خاوند څخه دطلاق ورکولو څخه یا دوفات کیدو څخه اودعدی تیریدو څخه بغیر ددوهم سړی سره نکاح صحیح نه ده. فقط

([1]) ایضا باب العدة ص۸۳۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۴۳. ظفیر

([2]) دداسي خاوند خلاف په عدالت یا دمسلمانانوپه جرګه کی دي درخواست دنکاح دفسخ کولی سی. وګورئ: الحیلة الناجزة وکتاب الفسخ والتفریق. ظفیر

دبد دينه جاهل خاوند ښځه هم بی طلاقه بله دوهمه نكاح نه سی كولی: **سوال**: (۸۰۱) ديوه جاهل سره ديوی تعليم يافته انجلی واده په غلطی وسو اوس انجلی دخاوند دبد دينی دوجه څخه متنفره ده دشريعت له لحاظه څه كول په كاردی؟

جواب: په دی صورت كی چی ترڅو خاوند طلاق ورنه كړی څه صورت دجلا كيدو نه سی كيدی اونه بله نكاح كيدی سی. فقط

ښځه بی له طلاقه اوبی فسخ څخه دوهمه نكاح نه سی كولی: **سوال**: (۸۰۲) داول خاوند په وجود كی بی له طلاقه دده ښځه دده دوهمه نكاح كولی سی اوكه نه؟ مذكوره ښځی دوهمه نكاح په وجود دمخكنی خاوند كی كړيده ددوهم خاوند څخه يی اولاد نارينه او زنانه پيدا سوي موجوددی په تركه كی داستحقاق ملكيت غواړی دا اولاد چی ددوهم خاوند څخه دی شرعًا حكم دحلاليدو غواړی اوس هم كه مخكی خاوند ښځه وغواړی نوپه حق دده كي شرعًا څه حكم دی؟

جواب: دمخكنی خاوند په وجودكی بی له طلاقو دده يابی له څه داسی كاره چی موجب دفسخ دنكاح وی دده ښځی لره نكاح ثانی جائزنه ده سره ددی علمه چی ددی خاوند سته طلاق يی نه دی وركړی بل داسی څه وجه دفرقت ددوی په مينځ كی نه ده واقع سوی ددوهم خاوند نكاح ددی ښځی سره باطله ده اودده اولاد صحيح النسب نه دی وارث دتركی ددوهم خاوند هم نه دی. كماقال فی البحر تزوج بامراة الغير عالما بذالك ودخل بها لاتجب العدة عليها ولايحرم علی الزوج وطؤها وبه يفتی لانه زنا والمزنی بها لاتحرم علی زوجها الخ شامی (۱) ص۲۹۳ ج۲. وفيه ايضا اما نكاح منكوحة الغير ومعتدته فالدخول فيه لايوجب العدة ان علم انها للغير لانه لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا الخ (۲) ص۳۵۰ ج۲. نو واضحه دی وی چی په صورت موجوده كي نكاح ثانی باطله ده، اولاد دده ولد الحرام دی اووارث دتركه ددوهم خاوند څخه دی اوداول خاوند نكاح باقی ده، ده لره وطی جائز دي اوښځه دده دی ده ته وسپارل سی. فقط

صرف په وهم او ګمان سره چی خاوند مړ وګڼل سی نكاح كول صحيح نه دی: **سوال**: (۸۰۳) دامام الدين څه روپی دده دورور سره وی ده خط وليكی چی زما روپی راوليږه په روپو رارسيدو كی وخت تيرسو نودناجوړی په حالت كی دی په خپله راغی دغه وخت وبايی مرض وو دده ورور وويل چی ماستا روپی په منی آرډر روانی كړيدی ته په خپله ولاړسه اووصول يی كړه دی واپس خپل وطن ته روان سو خودغه وخت زيات ناجوړه سو خور يی

---

(۱) ردالمحتار فصل فی المحرمات قبيل باب الولی ص۴۰۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۰. ظفير

(۲) ردالمحتار باب المهر ص۴۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۳۲. ظفير

په ریل کې سپورکړې کله چې امام الدین وطن ته رانغی نودده ښځې دده ورور ته ولیکل چې زما خاوند ژر راولیږه چې دروپو منی آرډر وصول کړی ددې ځای څخه جواب ولیکل سو چې دی په فلانی تاریخ په ریل کې سپور سویدی او ناجوړه هم وو نوبیا دده ښځې اوبچیانو ته فکر سو اوپه تلاش کولو یې هم پته ونه لګیده دده ښځې دا خیال وکې چې دی مړ سویدی عده دوفات یې تیره کړه اونکاح یې وکړه آیا دانکاح په دی صورت کی صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: مسئله داده چې کله ښځې ته خبر را ورسیدی چې ستاخاوند مړسویدی اوپه دی خبره عده دوفات څلور میاشتې لس ورځې تیری سی نودوهمه نکاح صحیح ده اوکه بی دخبر څخه صرف دا خیال وکی چې زما خاوند به مړ سوی وی کنې ضرور به راغلی وو او داعده تیره کړی اودوهمه نکاح وکړی نودوهمه نکاح په دی صورت کی صحیح نه ده، په درمختار کی دی: غاب عن امراته فتزوجت بآخر الخ قوله غاب عنه امرأة الخ شامل لما اذا بلغها موته اوطلاقه فاعتدت وتزوجت (۱) الخ شامي. فقط

دخاوند دعوٰی خارجه سی نودی ښځې ته دواده حق نسته: سوال: (۸۰۴) یوی کونډې ښځې دیوسړی سره نکاح وکړه اوتر څلورو میاشتو پوری دده په کور کی اوسیدله بیا دکوره ووتله په وجه دسخت تکرارچی دناکح سړی زړه منکوحه سته اودناکح عمر شپیته یا پنځه شپیته کاله دی اوس دابنځه دده په کور کی داوسیدو څخه قطعًا انکار کوی مذکوره سړی ددی دبیولو دپاره راغی نودا دده سره ولاړه اوپر سړی یی تشدد هم وکی اوپه لرګی یی هم ووهی اوپه بل ځای کی یی نکاح وکړه یو یادوی میاشتی وروسته ددغه ځای څخه هم بل ځای ولاړه اوس هغه سړی چې دڅاسره څلور میاشتی اوسیدلی وه په مجاز عدالت کی یی دعوه وکړه ښځه ونیول سوه دښځې بیان چې عدالت واخیستی نو ددی سړی دعوٰی یی خارجه کړه اوښځه یی خود مختاره کړه اوس دابنځه دیوبل سړی سره نکاح کول غواړی کولی یې سی اوکه نه؟

جواب: ترڅوچې داسړی چې دکونډې سره یی نکاح کړی وه اومجاز عدالت دده دعوٰی خارجه کړی وه طلاق ورنه کړی اوعده تیره نه سی نودبل سړی سره دابنځه نکاح نه سی کولی که ویې کړی نودا نکاح به باطله وی (۲). فقط

خاوند یی دکوره وباسی نوښځه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۸۰۵) یوه بالغه انجلی ددی خاوند ایستلی ده ددی نکاح په بل ځای کی جائزده اوکه نه؟

---

(۱) ردالمحتار للشامي باب ثبوت النسب ص۸۲۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۵۳. ظفیر

(۲) والمحصنٰت من النساء. سورة النساء: رکوع ۴. ظفیر

جواب: په دوهم ځای کی نکاح داول خاوند ښځه دطلاق اخیستو ښځه وروسته کیدی سی یعنی چی کله اول خاوند طلاق ورکړی اودطلاق عده دری حیضه تیرسی دغه وخت ددوهم سړی سره داښځه نکاح کولی سی خوصرف په ایستلوسره طلاق نه واقع کیږی خو که خاوند دالفظ چی ووزه اوولاړه سه ووایی اونیت یی باندی دطلاقو وی نوطلاق بائن واقع کیږی اودعدی ښځه وروسته دوهمه نکاح کولی سی غرض داچی ووزه اوداسي نور الفاظ کنایی دی که په دی کی نیت دطلاقو وی نوواقع کیږی اودنیت حال دخاوند په ویلو سره معلومیدی سی یاداسی قرائن وی چی دهغه ښځه معلومه سی چی دخاوند نیت دطلاقو دی اوداتفصیل په کتابونو دفقه کی سته په بعضو کنایاتو کی مذاکره دطلاقو وی اوپه بعضوکی حالت دغیض اوغضب قرینه دطلاق مراد کیدو کیږی او ووزه وغیره په هغه الفاظوکی دی چی په دی کي په هرحال کی نیت ضروری دی کذافی الدرالمختار. (١) فقط

دشلو کالو راهیسی چی کمه ښځه دخاوند ښځه جلاوی هغه نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۸۰۶) خلاصه دسوال داده چی یوه ښځه دشلو کالو ښځه دخپل خاوند ښځه بیله ده نودا دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: چی ترڅو داښځه دخاوند ښځه طلاق وانه خلی ترهغه وخته دادوهمه نکاح نه سی کولی اول به دده ښځه طلاق واخلی بیاچی عده تیره سی دغه وخت ددوهم سړی سره نکاح کولی سی. فقط

دغیر مطلقې سره دعدالت دفیصلی سره هم نکاح جائزنه ده؟ سوال: (۸۰۷) اصغری او اکبری دوی خوندی دی داصغری نکاح دزید سره وسوه خوڅه موده وروسته عمر داصغری سره دخپلی نکاح دعوه په عدالت کی دائره کړه اصغری یې په خپله قبضه کی واخیسته اونکاح یی ورسره وکړه بی دطلاق ورکولو دزید، اواکبری دزید سره نکاح وکړه څه موده وروسته عمر پاګل سو پاګل خانی ته ولاړی چی دهغه ښځه لس کاله وسوه او لاعلاج دی اصغری دبکرسره اوسیدله چی دهغه ښځه یی یوزوی هم پیداسو چی اوس داوو اتو کالو دی خواوس بکر داصغری سره نکاح کول غواړی دزید اوعمر ښځه طلاق اخیستل ناممکن دی، شرعا جائزدی اوکه نه؟

جواب: ترڅو چی زید اصغری ته طلاق ورنه کړی اوعده تیره نه سی تردغه وخت دعمر سره هم داصغری نکاح صحیح نه ده اونه داصغری سره دبکر نکاح جائز ده (٢) او نه دزید

(١) کنایة عند الفقهاء ما لم یوضع له ای الطلاق واحتمله وغیره فالکنایات لا تطلق بها قضاء الا بنیة او دلالة الحال الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکفایات ص ۲۳۵ - ۲۳۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۹۲). ظفیر =

داکبرى سره ځکه چى داکبرى خور اصغرى دزيد په نکاح کى تراوسه پورى ده (١). فقط

دخنثى سره چى کله نکاح وسوه نودوهمه نکاح جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۸۰۸) ديوى نابالغى انجلى نکاح ددى مور اوپلار ديوى خنثٰى سړى سره وکړه چى اعضاء دتناسل يى ډيره کوچنى ده اوددى په بيخ کى يوسورى دى چى دهغه څخه متيازى راځى دبلوغ څخه وروسته دهلك داخبره ښکاره سوه په دى صورت کى که دا انجلى دبل سره عقد کول غواړى نوبى دطلاقه يى کولى سى اوکه نه؟

جواب: که داسړى چى دچاسره دنابالغى انجلى نکاح سويده خنثٰى مشکل دى چى دده سړى اوښځه کيدل متحقق نه دى نودا نکاح به موقوفه وى وروسته چى متحققه سى چى سړى دى نونکاح صحيح کيږى اوکه متحققه سى چى داښځه ده نونکاح باطله ده ځکه چى دښځى نکاح دښځى سره صحيح نه ده اوخنثٰى مشکل هغه دى چى دده دواړه نښى وى دسړى هم اودښځى هم ياهيڅ هم نه وى اوکه ترآخره پورى دا اشکال باقى وى چى نه دده سړى کيدل معلوم وى اونه ښځه کيدل نو نکاح باطليږى (٢) په صورت مسئوله کى سائل دا ليکلى دى چى عضو تناسل دده ډير کوچنى دى اوپه بيخ کى يى سورى دى چى ددى څخه متيازى راځى ددى څخه معلومه سوه چى داخنثٰى نه دى سړى دى خونامرد اوعنين دى په دى کى احناف داتفصيل کوى چى په دى صورت کى نکاح منعقد کيږى بياکه دخاوند عضو تناسل دومره کوچنى وى چى په شان ديو ځونډى وى چى ددى په فرج کى داخليدل ممکن نه وى نودده حکم دمجبوب دى يعنى دمقطوع الذکر په شان دى چى دښځى په طلب به قاضى په دوى کى فوراً تفريق وکړى اوکه داسى نه وى بلکى عنين وى نوديو کال مهلت به خاوند ته دعلاج ورکول سى ددى څخه وروسته که ښځه طلب وکړى نوقاضى به تفريق وکړى (٣) خو په دى زمانه کى چى قاضى نسته نودفريقينو

---

(٢) اما نکاح منکوحة الغير الخ فلم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (ردالمحتار ص۴۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۳۲). او دحکومت فيصله غلطه ده. ظفير

(١) وحرم الجمع بين المحارم نکاحا وعدة الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فى المحرمات ص۳۹۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۳۸). ظفير

(٢) هو عقد يفيد ملك المتعة اى حل استمتاع الرجل من امراة لم يمنع من نکاحها منع شرعى فخرج الذکر والخنثى المشکل (درمختار) اى ايراد العقد عليهما لا يفيد ملك استمتاع الرجل بهما لعدم محليتها الخ (رد المحتار کتاب النکاح ص۳۵۲ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳ و۴). ظفير

(٣) اذا وجدت المراة زوجها مجبوبا او مقطوع الذکر فقط اوصغير جدا کالزر ولو قصيرا لايمکنه ادخاله داخل الفرج قوله فرق بينهما الحاکم بطلبها فى الحال الخ لو وجدته عنينا اوخصيا الخ اجل سنة الخ فان وطى مرة والا بانت بالتفريق بطلبها (الدرالمختار ص۲۵۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۹۴). ظفير

یومسلمان حکم به داکاروکی اوکه داهم نه سی کیدی نوبی دطلاقو ورکولو دخاوند ښځه اودعدی دتیریدو ښځه که خلوت سوی وی دوهمه نکاح صحیح نه ده. فقط

دعمر قیدی ښځه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۸۰۹) یوسړی لره حکومت عمر قید ورکړیدی اودتورو اوبو ښځه یی اړولی دی باقی ښځه منکوحه بالغه غیر مدخوله دده په کورکی په سبب دبیری دفتنی دزنا اودعدم دنفقه وروسته دفرقت اودفسخ دنکاح اول ښځه ددی ښځی دبل سړی سره نکاح کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ښځه خپله نکاح نه سی فسخ کولی اودوهمه نکاح نه سی کولی اودمفقود مسئله دلته نه سی جاری کیدی ترڅو چی خاوند طلاق ورنه کړی یایی دمرګ خبر رانسی اوعده تیره نسی تردغه وخته پوری دوهمه نکاح نه سی صحیح کیدی.

په عده کی دننه نکاح جائزنه ده اوچی څوک داسی وکړی هغه فاسق دی: سوال: (۸۱۰) څوکسان دطلاقو په عده کی دننه نکاح کوی ددوی په باره کی څه حکم دی اودا صحیح ده اوکه نه؟ اوددوی دپاره څه کفاره ده؟

جواب: په عده کی دننه نکاح ثانی کول باطل اوناجائز دی اوپه عده کی دننه نکاح نه منعقده کیږی په عده کی بالکل نکاح نه دی کول په کار عده دطلاقو دری حیضه دی ددی ښځه وروسته نکاح جائزده اوچی کم سړی داسی کوی یایی په بل کوی دی مرتکب دفعل حرام اوګنهګار دی (۱) ددوی دپاره همداکفاره ده چی توبه دی وکاږی اوبیا بالکل دي داسی ونه کړی ماسوی دتوبی ښځه بله څه سزا یاجرمانه پردوی نسته داسزا کیدی سی چی څوك داسی کوی نودهغوی سره دی تعلق پرینبوول سی اوهیڅ قسم تعلق دی ورسره ونه ساتل سی. فقط

چی دکمی ښځی خاوند مړسی هغه کله نکاح کولی سی؟ سوال: (۸۱۱) یوه کونډه ښځه دهغې نکاح په کم از کم څومره موده کی کیدل پکاردی آیا په دری میاشتی اولسو ورځو کی هم کیدی سی اوکه څلور میاشتی لس ورځی مشروط دی؟

۲. اودخاوند دفوت کیدوځای مخکی دعدی ښځه بی ضرورته په پرینبودو سره په دوهم عقد کی څه نقصان خونه راولی؟

۳. که دڅلورو میاشتو اولسو ورځو دپوره کیدو ښځه مخکی نکاح وسی نوجائزده اوکه نه؟ که جائز نه وي نوچی طلاق یې ورکړی آیا دوباره ددی سړی سره نکاح کول ضروری دی اوکه دده سره به مجبورا ختم دعدی کوی. فقط

(۱) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (ردالمحتار باب العدة ص۸۳۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۱۲). ظفیر

۴. نكاح ثاني مخكې دعدې څخه وسوه، خوشپه دحيض وه ددې وجه څخه مجامعت ونه سو نوددې دپاره دطلاق څه شكل دی؟

۵. ديو سړی نكاح په لوړه طريقه وسوه چي دښځي ورته ددرواغو توصيف سوی وو او ښځه يې ددې په خلاف باندي وه ناكح متنفر سو نوده لره څه كول پكار دي؟ او سړی دمهر طاقت هم نه لري؟

جواب: دكونډي يعني چي دچاخاوند مړوی عدت ئې لس ورځې او څلور مياشتې دی (۱) ددې مودې څخه وړاندې نكاح نه سی كيدې او چه په عدت كي كمه نكاح وسوه دا نكاح باطله ده منعقده نه ده په دې كي د طلاقو ضرورت نسته او نه دا ښځه ددې سړی سره په نكاح كولو مجبوره ده، دعدت تيريدو څخه وروسته چه دچا سره ئې هم خوښه سی نكاح دې وكړی او په داسې ناجائز نكاح كي بې ددخول او دصحبت څخه مهر نه لازميږی اوكه صحبت شوی وی نو مهر مثل لازم دی. (۲) فقط

دبالغي چه كمه نكاح په اجازت سره وسوه دويمه نكاح صحيح نه ده: **سوال**: (۸۱۲) يو سړی په منصورې دخپلې لور بالغې نكاح وكړه جيني په شير كوټ كي پرخپل كور وه خو دې سړی وويل چه ما دخپلې لور څخه پوښتنه كړيده او راغلې يم هغې په خوشحالي اجازت راكړيدي او په دې نكاح كي ډير سړی موجود وه اوس ئې برادرې دناوې وركولو څخه مانع ده حال دا دی چه ټولو ته ده اقرار كړيدی چه ما ددې نكاح وكړه او راغلم ډيرو سړيانو ورته دروپو طمع وركړه دهغوی په غولولو سره دی واده نه وركوی بلكه په بل ځای كي ددې په نكاح كولو تيار دی او په منصورې دجيني دنكاح څخه وړاندې پنځه سوه روپۍ مهر او نان او نفقه تحرير كړل خاندان وائې چه دجيني په غير حاضری كي نكاح ونه سوه او ناجائز زور اچوی شرعاً دا نكاح سويده او كه نه؟ پلار هر قسم راضې وو او تحرير ئې كړيدی، اوس په غولولو سره پښېمانه سويدی ډير گواهان سته؟

جواب: پلار چه كمه نكاح دبالغي لوري دهغې په اجازت كړيده هغه نكاح صحيح سوه او منعقده سوه اوس ددويم سړی سره نكاح ددې جيني صحيح نه ده او دخاندان زور اچول ناجائز دی او په دې ناجائز زور اچولو سره مخكې نكاح نه ده ماته سوی او دپلار انكار كول معتبرنه دي ولي چه دده په تحرير اوگواهانو سره نكاح ثابته ده اوپه نص قرآنی سره

(۱) والعدة للموت اربعة شهر بالاهلة لو فى الغرة وعشر من الايام بشرط بقاء النكاح صحيحا الى الموت مطلقا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدة ص۰ ۸۳ ج۲ ط. س. ج۳ ص۰ ۵۱). ظفير

(۲) باب النكاح الفاسد انما يجب فيها مهر المثل والعدة بالوطى لا بمجرد العقد ولا بالخلوة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة ص۸۳۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۱۲). ظفير

دمنکوحه نکاح باطله ده کما قال الله تعالیٰ: والمحصنٰت من النساء الخ .

چي دچا خاوند مړسو دهغه نکاح په عده کي صحيح نه ده: **سوال**: (۸۱۳) ديوى ښځي خاوند په دريم درمضان دمياشتي مړ سو وروسته ددى رشته دارانو ددى نکاح جبراً ديو داسي سړى سره وکړه چي دهغه څخه ددى نفرت وو دانکاح په څلورم دمحرم وسوه آيا دا نکاح چي په عده کي وه جائز ده؟

جواب: عده دوفات لس ورځي اوڅلور مياشتي دي دعدى ختميدو څخه يوه ورځ مخکي هم دوهمه نکاح حرامه ده اوباطله ده دانکاح شرعًا صحيح نه سوه، قال الله تعالیٰ: لا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتاب اجله. الآيه. (۱) ترجمه: دنکاح قصدمه کوى تردى چي عده پوره سي. وقال الله تعالیٰ والذين يتوفون منكم ويذرون ازواجًا يتربصون بانفسهن اربعة اشهر وعشرا. (۲) الآيه. ترجمه: اوچي کم خلګ په تاسي کي وفات سي او ښځي پريږدى نودغه کونډى ښځي به څلور مياشتي اولس ورځي ځان دنکاح وغيره څخه بندوى اودعدى پوره کيدو انتظار به کوى.

په عده کي دننه نکاح صحيح نه ده او ديو دوو طلاقو څخه وروسته هم دخاوند سره نکاح صحيح ده: **سوال**: (۸۱۴) يوسړى خپلي ښځي ته طلاق ورکى اوددى نکاح په عده کي ديوبل سړى سره وسوه اوس دوهم خاوند هم طلاق ورکى ښځه غواړى چي زما نکاح دى په عده کي دننه داول خاوند سره وسي آياپه دى صورت کي داول خاوند سره نکاح ددى ښځي کيدى سي اوکه نه؟

جواب: کمه دوهمه نکاح چي په عده کي دننه سويده هغه باطله ده ددى طلاق هم واقع نه دى (۳) اوکه اول خاوند درى طلاقه نه وى ورکړى يو يادوه طلاقه يي ورکړى وى نوکه په صريح الفاظو سره طلاق يي وکړى وى نوبي دنکاح څخه هم په عده کي دننه رجوع کولى سى اوکه په صريح الفاظو سره يي طلاق نه وى ورکړى بلکه په کنايي الفاظو سره يي طلاق ورکړى نودا طلاق بائن سو بغير دنکاح څخه رجعت نه سى کولى خو داول خاوند سره نکاح په عده کي اودعدى څخه وروسته يي کولى سى اوکه درى طلاقه يي ورکړى وو نو بيا بي له حلاله به داول خاوند سره نکاح صحيح نه (۴) وى. فقط

(۱) و(۲) سورة البقره: رکوع ۳۰ . ظفير

(۳) اما نكاح منكوحة الغير ومعتدته ...... لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (ردالمحتار باب المحرمات ص ۴۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۳۲). ظفير

(۴) إذا طلق الرجل امرأته تطليقة رجعية أو تطليقتين فله أن يراجعها في عدتها رضيت بذلك أو لم ترض (هداية باب الرجعة ص۳۷۳ ج۲، ط.س. ج۳ ص۲۸۴ – ۲۸۲) وإذا كان الطلاق بائنا دون الثلاث فله أن يتزوجها =

که دبسم الله دپلار نوم ونه ښیم نوطلاق، ددې ویلو څه حکم دی؟ سوال: (۸۱۵) زید وویل که ما دبسم الله دپلار نوم ونه ښووی نوزما ښځه طلاقه ده اودبسم الله دپلار نوم یې ونه ښووی نو څه حکم دی؟ مجیب احتیاطًا دایمان اودتجدیدِ نکاح حکم وکی زید چی کله دتجدیدِ نکاح دپاره خپلی ښځی ته ورغی نوښځی انکار وکی او ددوهم خاوند اراده یې ښکاره کړه آیا دزید ښځه ددوهم خاوند سره نکاح کولی سی؟

جواب: اقول وبالله التوفیق چی حکم دتجدید دایمان اودنکاح احتیاطًا په دی صورت کی وو نه ددی وجه څخه چی دی یقینا کافر سویدی. یمکن التاویل وان کان ضعیفًا لا یحکم بکفره. ردالمحتار وغیره. نومذکوره ښځی لره روا نه دی چی دابی طلاقه دزید او دعدی تیریدو څخه دبل چاسره نکاح وکړی. په درمختار کی دی: وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح الخ قوله وتجدید النکاح ای احتیاطًا قوله: ای یأمره المفتي بالتجدید لیکون وطؤه حلالاً باتفاق وظاهره انه لا یحکم القاضي بالفرقة بینهما واقدم ان المراد بالاختلاف ولو روایة ضعیفه . ردالمحتار جلد ۳ ص ۲۹۹. فقط

چي هرڅه وجه وي خو دمنکوحي سره بی طلاقه نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۸۱۶) زید خپله ښځه خرڅول وغوښتل هغه بی طلاقه جلا سوه دبل په کورکی آباده ده اوس ددی دوهم سړی سره نکاح کول غواړی څه حکم دی؟

جواب: ترڅو چی ورته زید طلاق ورنه کړی اوعده تیره نه سی ترهغه ددی دوهم واده صحیح نه دی. فقط

توبه دی وکاږي اودعدی څخه وروسته دی بیا نکاح وکړي نودي دی معاف کړل سي: **سوال**: (۸۱۷) زید دیوی کونډی سره په ورځو دعدی کی نکاح وکړه په دی خیال چی دورځو دحمل او داختتام ترعدی پوری به دزید مور اوپلار به ښځه دعدی تیرولو دپاره په خپل کور کی نه پریږدی خاوندان جلا کړه څه حکم دی؟

جواب: دحاملی ښځي عده وضع دحمل ده نو ددی څخه مخکی چی کمه نکاح وسوه هغه باطله ده دادی معدوم وګڼی اودعدې څخه وروسته بیا په رضا دښځی دخاوند نکاح تړل ضروری دي زید چی په هرحال په عده کی نکاح کړی وه په دی سره عاصی اوفاسق سو توبه دی وکاږی اونکاح دی بیادعدی څخه وروسته وکړی اوزیدکه توبه وکاږی اودعدی تر ختمیدو پوری داجلا کړی نوخاندان والا دی دده قصور معاف وګڼی اودده سره دی تعلق وساتی دغه وخت چی خاندان والا دزید وغیره سره دمجرمانو تنبیه دپاره څه

= في العدة وبعد انقضائها الخ وان کان الطلاق ثلاثا الخ لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره ویدخل بها ثم یطلقها أو یموت عنها (ایضاً فصل فیما به المطلقة ص۳۷۸ ج۲). ظفیر

کړيدی ښه يې کړيدی دتوبې څخه وروسته اوپر ګناه دپښيمانه کيدو څخه وروسته بيا ورسره تعلق ساتل په کاردی. فقط

مخکې خاوند چې طلاق نه دی ورکړی نو دوهمه نکاح صحيح نه ده: سوال: (۸۱۸) رحمت بی بی دوقاربهشتی په نکاح کی وه وقاربهشتي ديوې مقدمی دبيری رحمت بی بی پرې ښووله او وتښتيدی په دې دوران کی حافظ عبد الغفور مذکوره ښځه په کورکي وساتله اووايی چې ماددی سره نکاح کړيده ددی څخه وروسته په رحمت بی بی اوعبدالغفورکی جګړه وسوه اوتقريبا دشپږو مياشتو راهيسی رحمت بی بی دعبدالغفور څخه بيله ده اوس درحمت بی بی نکاح دبل سړی سره جائزده اوکه نه؟ اوکه درحمت بی بی نکاح دعبد الغفور سره سوی وی هم نواوس طلاق سويدی اوکه نه؟

جواب: تراوسه پوری رحمت بی بی دوقاربهشتی په نکاح کی ده ځکه چې دوقار بهشتی په تښتيدو دده ښځه دنکاح څخه نه وزی، ددی وجه که بالفرض عبدالغفور ددغه ښځی سره نکاح کړی هم وی نودا نکاح باطله ده اودطلاق ضرورت يې نسته اونه طلاق واقع کيدی سی اودرحمت بی بی نکاح ماسوا دوقار دبل چاسره هم نه ده جائز خوکه وقار بهشتی مخکې خاوند مړسو يامفقود الخبر وی نوبيا ددی موافق بل حکم کيدی سی.

چې خاوند ورک سی نوښځه بله نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۸۱۹) دهندی دزيد سره دنکاح دری کاله وسوه چې سويده اوزيد ددووکالو راهيسی ورك دی دهندی لور اوپلار روپې واخيستی اودهندی نکاح يې دعمر سره وکړه دانکاح جائزده اوکه نه؟ اوپه ناکح او پر شريکانو څه جرم دی؟

جواب: په دی سورة کی دهندی دوهمه نکاح دعمر سره صحيح نه ده [1] نکاح کوونکی او معاونين ګنهګار دی توبه دي وکاږی. فقط

خاوند پاګل سی نوښځه دوهم واده کولی سي اوکه نه؟ سوال: (۸۲۰) دزيدمنکوحه ترلسو کالو پوری تقريبا دزيد سره وه خواتفاقاً زيد پاګل سو ښځی څومياشتی مزدوری وکړه اوخپله ګذاره يې کوله خواخر ديوسړی طمعه داره سوه اوبل ښار ته ولاړه مثلا دعمر سره يې سکونت اختيارکی تراوو کالو دعمر سره اوسيدله اوس پوښتنه داده چې دابښځه دعمر سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ که دجواز دنکاح څه صورت وی نواطلاع راکړی.

جواب: داول خاوند دطلاق څخه بغير دوهمه نکاح دعمر سره صحيح نه ده اوچی زيد پاګل دی دده طلاق هم نه صحيح کيږی ترڅو چې زيد ښه سوی نه وی دده طلاق نسي [2]

---

[1] اما نكاح منكوحة الغير ؒ لم يقل احد بجوازه (ردالمحتار باب العدة ص ۸۳۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۱۲). ظ

[2] ولا يقع الصبی والمجنون (هدايه كتاب الطلاق ص۳۳۷ ج۲) دتفصيل دپاره وګوری الحيلة الناجزه. ظفير

سی واقع کیدی. دښه کیدو څخه وروسته که زید طلاق ورکړی اوعده تیره سی نودغه وخت دبل سړی سره دا نکاح کولی سی . فقط

کمه ښځه چی خاوند داوولسو کالو راهیسی پرینښی ده هغه څه وکړی؟ سوال: (۸۲۱\) دیوی ښځی داوولسوکالوراهیسی نکاح سویده خودا دومره موده دا دمور اوپلار پرکور ناسته ده خاوند نه خرچه ورکوی اونه یې خیال کوی اونه طلاق ورکوی که ددی بی طلاقه بل ځای نکاح وسی نوجائزده اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ولا یفرق بینهما لعجزه عنها بانواعه الثلاثة ولا بعدم ایفائه لو غائبا حقها الخ. (۱) نومعلومه سوه چی مذکوره ښځه بی دخاوند دطلاقه اوبی دعدی تیریدو څخه بله نکاح نه سی کولی. فقط

اووم فصل

حرمت دنکاح په سبب دطلاق

غیر مدخوله ته دری طلاقه وسی نو اوس ورسره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۸۲۲\) زید خپلی منکوحه غیرمدخوله ته دری طلاقه ورکړیدی آیا دیوه کال څخه وروسته بی حلالې دزید سره په نکاح کی راتلی سی اوکه نه؟

جواب: په کتابونو دفقه کی دی چی که غیر مدخوله ته دری طلاقه جلا جلا ورکول سی نودا یوطلاق بائن کیږی دوهم اودریم طلاق نه واقع کیږی اوکه دری طلاقه په یوځای وی اوپه یووار چی داسی ووایي: انت طالق ثلاثا. یعنی تاته دری طلاقه دی نودری واړه واقع سوه (۲) نوبیابی له حلالی نکاح صحیح نه ده اوپه مخکی صورت کی بی له حلاله هم نکاح کولی سی (۳). فقط

دخپلی مطلقی سره په دوباره نکاح: سوال: (۸۲۳\) یوسړی خپلی ښځی ته طلاق ورکی پنځه میاشتی وروسته دامطلقه ددی سړی سره نکاح کولی سی؟

جواب: که دی ښځی ته خاوند دری طلاقه ورکړی وی نوبی حلاله داول خاوند سره ددی

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب النفقة مطلب فسخ النکاح بالعجز ص۹۰۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۹۱. داسی خاوند ته متعنت وایي دداسی خاوند څخه خلاصی دمسلمان قاضی یا دجرګی په ذریعه په اسانی سره کیدی سی دتفصیل دپاره وګوری کتاب الفسخ والتفریق از مولانا عبدالصمد رحمانی. الحیلة الناجزة از مفتی محمد شفیع. ظفیر

(۲) قال لزوجة غیر المدخول بها انت طالق ثلاثا وقعن الخ وان فرق بانت بالاول لا الی عدة ولم تقع الثانیة (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب طلاق غیر المدخول بها ص۹۲۴ - ۹۲۲ج۲ ط.س. ج۳ ص ۲۸۴ و۲۸۲). ظفیر

(۳) وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة الخ لم تحل له حتیٰ تنکح زوجًا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها (هدایه باب الرجعة ص۲۷۸ ج۲) واذا کان الطلاق بائنا فله ان یتزوج فی العدة وبعد انقضاءها ایضًا. ظ

نکاح صحیح نه ده اوکه یو یا دوه طلاقه یې ورکړي وي نودعدې څخه وروسته یا مخکې داول خاوند سره نکاح صحیح ده. فقط

دوهم خاوند چې دوطې څخه مخکې طلاق ورکړي نو پردې عده نسته خو دا به دمخکنې خاوند دپاره صحیح نه وي: **سوال**: (۸۲۴\) مطلقې دوهمه نکاح وکړه خودوهم خاوند هم دې ته دڅه وجه درې طلاقه ورکړل اووطې یې ونه کړې په دې صورت کې داول خاوند سره دوهمه نکاح کولې سې اوکه نه؟

جواب: که دوهم خاوند مخکې دوطې اودخلوت څخه طلاق ورکړي وي نوددې عده نسته لقوله تعالی: وان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن فما لکم علیهم من عدة تعتدونها ([1]) خو که اول خاوند درې طلاقه ورکړي وي نوبغیر دوطې ددوهم خاوند څخه داول خاوند دپاره حلالیږي ځکه چې په حلاله کې وطې ددوهم خاوند شرط دی لکه چې دفقهاوو په عامو کتابونو کې دی ([2]). فقط

که دمراهق سره په حلاله کې نکاح وسي نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۸۲۵\) زید ښځې ته درې طلاقه ورکړل اوحلاله دداسې سړي سره وسوه چې دهغه په بلوغ کې په ښکاره کمې معلومیږي اوعمر یې تقریبًا پنځلس کاله دی نوپه دې صورت کې دوباره دزید نکاح شرعًا صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دحلالې څخه وروسته زید ددې مطلقې سره نکاح کولی سی اودا نکاح شرعًا صحیح ده اوپه حلاله کې که دوهم خاوند چې دهغه سره نکاح سوی وه مراهق یعنی قریب البلوغ هم وو اوده ددخول اودمجامعت څخه وروسته طلاق ورکې نودعدې تیریدو څخه وروسته اول خاوند ددې ښځې سره نکاح کولی سی، کذا فی کتب الفقضه. ([3]) فقط

(مراهق وروسته دبلوغ څخه که طلاق ورکړي نوواقع به وي کنې نه به وي. ظفیر)

دحلالې څخه وروسته نکاح صحیح ده او دحلالې په نیت واده مکروه تحریمي دی: **سوال**: (۸۲۶\) زید خپلې ښځې ته طلاق ورکې بیادې نکاح ددې ښځې سره کول غواړي نودې

([1]) سورة البقرة رکوع: ۳۱. ظفیر

([2]) لا ینکح مطلقة بها ای بالثلاث الخ حتی یطأها غیره الخ بنکاح نافذ الخ والشرط التیقن بوقوع الوطی فی المحل المتیقن (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ص ۷۳۹ – ۷۴۰ – ۷۴۱ ، ط.س. ج۳ ص ۴۰۹ – ۴۱۰). ظفیر

([3]) ولو الغیر مراهقاً یجامع مثله (درمختار) هو الدانی من البلوغ نهر ولابد ان یطلبها بعد البلوغ لان طلاقه غیر واقع. درمنتقی عن التتارخانیة الخ والاولی ان یکون حرا بالغا فان الانزال شرط عنها لك فالاولی الجمع بین المذهبین (ردالمحتارباب ایضا ص۷۴۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴۱۰). معلومه سوه چې که مراهق بالغ نه وي نوددې طلاق نه واقع کیږي. ظفیر

یوسړی ته وایی چی ته دفلانی ښځی سره ددوو شپو دپاره نکاح وکړه او وطی وکړه او طلاق ورکړه چی زه دوباره ددی ښځی سره نکاح وکړی سم نوپه دی شرط سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ اوملا صاحب نکاح خوان وایی چی ما دکتاب څخه دا مسئله را ایستلی ده ماته به څه روپی راکوی نوده لره دا اخیستل جائزدی اوکه نه؟ اوداملاصاحب غنی دی خوصدقة الفطر اودقربانی څرمنی هم اخلی نوداهم جائز دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وکره التزوج للثانی تحریما لحدیث لعن المحلل والمحلل له بشرط التحلیل الخ وان حلت للاول الخ اما اذا اضمر ذالك لایکره وکان الرجل ماجوراً ([1]) ددی عبارت څخه معلومه سوه چی په شرط دتحلیل نکاح کول مکروه دی خودا ښځه به په داسی نکاح ثانی کولو اودوطی څخه وروسته په طلاق ورکولو سره داول خاوند دپاره حلاله سی اوملا صاحب ته په دی صورت کی پیسی اخیستل جائزنه دی اوغنی لره صدقة الفطر او دقربانی دڅرمنو قیمت اوزکوٰة ورکول جائزنه دی. فقط

په حلاله کی وطی شرط ده: **سوال**: (۸۲۷) یوسړی خپلی ښځی ته طلاق ورکی دی ښځی دری میاشتی لس ورځی وروسته دیوسړی سره نکاح وکړه ده دکوروالی څخه مخکی طلاق ورکړی، اوس دا ښځه دمخکنی خاوند سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: که دې سړی اولنی، ښځی ته درې طلاقه ورکړی وی نوبی حلاله دا ښځه داول خاوندسره نکاح نه سی کولی اوپه حلاله کی ددوهم خاوندوطی کول ضروری دی نودوهم خاوند چی کله بی له وطی دې ته طلاق ورکی نودا ښځه داول خاوند دپاره حلاله نه سوه لکه چی باری تعالی فرمایی: فان طلقها فلاتحل له حتٰی تنکح زوجا غیره ([2]) اوخاوند چی کم طلاقونه مقرر کړیدی نودڅه شاهد ضرورت نسته خوکه خاوند دطلاقو انکار او ښځه دعوٰی کوی نو ددوو شاهدانو ضرورت دی. فقط

په حلاله کی یې دکوچنی ورور سره نکاح وکړه نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۸۲۸) یوسړی خپلی حاملی ښځی ته دری طلاقه ورکړل دحمل دوضع څخه وروسته چی ښځه اوسړی خفه وه په سبب دجدایی اتفاقا دواړه یوځای سوه دوباره یې نکاح وکړه دیوې میاشتې څخه وروسته کشر ورور هم طلاق ورکی اوس که اول خاوند ددی سره نکـــاح وکړی نو

([1]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الرجعة قبیل مطلب فی حکم لعن المعصاة ص۷۴۳ - ۷۴۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴۱۴. ظفیر

([2]) سورة البقرة رکوع: ۲۹. الشرط التیقن بوقوع الوطؤ في المحل المتیقن (درمختار) فلذا اشترطوا فیه الوطء الموجب للغسل بإیلاج الحشفة بلاحائل في المحل المتیقن احترازاعن المفضاة والصغیرة من بالغ أومراهق قادر علیه بعقد صحیح لافاسد ولاموقوف (ردالمحتار باب الرجعة ص۷۴۱ - ۷۴۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۴۱۲). ظفیر

صحیح به وی اوکه نه ؟

جواب: دحمل دوضع څخه وروسته ددی مطلقه ثلاثه عده ختم سوه دطلاقی دورور سره یی نکاح صحیح ده بیاکه ده دجماع او ددخول څخه وروسته طلاق ورکړی نو دطلاق دعدی څخه وروسته داول خاوند سره نکاح صحیح کیدی سی (۱) اوعده دطلاق چی حامله نه وی دری حیضه دی اوکه حیض نه راځی نودری میاشتی دی غرض داچې دعده تیریدو څخه مخکی خاوند نکاح نه سی کولی: قال الله تعالی فان طلقها فلا تحل له من بعد حتیٰ تنکح زوجا غیره الآیة (۲) وطلاق الزوج الثانی ووطیه وانقضاء عدته ثبت من نصوص آخر (وګوری هدایه باب الرجعة ص۳۷۸ ج۲). فقط

دمدخوله سره ددری طلاقوڅخه وروسته بی حلاله نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۸۲۹\۱) یو سړی خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړل څلور پنځه ورځی وروسته یوقاضی ددی ښځی نکاح داول خاوند سره وکړه ایا دا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: ددری طلاقو څخه وروسته بی دحلالی څخه داول خاوند سره نکاح نه سی کولی په دی حالت کی چی کمه نکاح وسوه داباطله اوحرامه ده نکاح ونه سوه په دوی کی دی جدایی وسی. (۳) فقط

دمطلقه مغلظه واده ددری حیضو څخه وروسته صحیح دی او دمخکنی خاوند سره بی حلاله صحیح نه دی: **سوال**: (۸۳۰\۱) یو سړی خپلی ښځی ته طلاق ورکړی درې میاشتی پنځلس ورځی وروسته ددی نکاح دبل سړی سره وسوه وروسته دپنځلسو ورځو څخه ده طلاق ورکی ددی هم دری میاشتی او پنځلس ورځی وسوی اوس ددی نکاح داول خاوند سره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دمطلقی درې حیضه دی یعنی که دې ته حیض راځی او دری حیضه پوره سی دغه وخت دوهمه نکاح صحیح کیږی اوپه دری طلاقوکی بی حلاله داول خاوند سره ددی مطلقی نکاح صحیح نه ده اوطریقه دحلالی داده چی دعده دطلاقو یعنی دحیض څخه وروسته ددی ښځی ددوهم سړی سره دی نکاح وکړی اودی دي دوطی او دکوروالی څخه

(۱) لاینکح مطلقة من نکاح صحیح نافذ بها ای بالثلاث لوحرة الخ حتی یطأه غیره الخ بنکاح نافذ (درمختار) ولا بد من کون الوطأ بالنکاح بعد مضی عدة الاول لو مدخولا بها (ردالمحتار باب الرجعة مطلب فی العقد علی البائنة ص۷۳۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۰۹). ظفیر

(۲) سورة البقرة: ۲۹ . ظفیر

(۳) وان کان الطلاق ثلثا فی الحرة الخ لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها (هدایه باب الرجعة فصل فیما تحل به المطلقة ص۳۷۸ ج۲). ظفیر

وروسته طلاق ورکړی بیا چي دده عده هم تیره سی (۱) یعنی دری حیضه پوره سی نوبیا داول خاوند سره نکاح صحیح کیدی سی: قال الله تعالیٰ والمطلقات یتربصن بانفسهن ثلاثة قروء یعنی مطلقه ښځه به دری حیضه انتظار کوی یعنی عده ددوی دری حیضه ده.

که په حلاله کی اختلاف وسی دوهم خاوند وایی صحبت نه دی سوی ښځه وایی سویدی څه حکم دی؟ سوال: (۸۳۱) یوسړی خپلی ښځی ته طلاق ورکی بیا ښځی ددوهم سړی سره نکاح وکړه یوه نیمه میاشت وروسته ده هم طلاق ورکی بیا ورسره اول خاوند نکاح وکړه ددی وروسته په اول اودوهم خاوند کی جګړه وسوه اودوهم خاوند وایی چی ما دښځی سره صحبت نه دی کړی خوپه قسم نه وایی اوښځه په قسم وایی چی کوروالی سویدی، نو دچا قول معتبردی؟

جواب: په دی صورت کی دښځی قول معتبردی اوحلاله صحیح سوه اونکاح داول خاوند که وروسته دتیریدو ددوهم خاوند دعدی څخه سوی وی نو صحیح سوه (۲). فقط

په زور اچولو یې دری طلاقه ورکړل نوبیا نکاح کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۸۳۲) قریبانو پریو سړی زور واچوی اودده ښځی ته یی په ده دری طلاقه واچول اودا سړی داښځه دخپل ځان سره ساتل غواړی نودا جائزدی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دده پرښځی باندی دری طلاقه واقع سویدی (۳) حرام مغلظه سوه بی له حلالی اول خاوند ددی سره نکاح نه سی کولی (۴). فقط

ددری طلاقو څخه وروسته هنده مخکنی خاوند ته ترهغه نه سی تللی ترڅو چی دوهم خاوند طلاق ورنه کړی: **سوال**: (۸۳۳) زید دهندی سره واده وکی دری کاله یی ګذران وکی ددی څخه دزید سره دعدم موافقت په وجه دپلار کورته ولاړه دوه کاله یی تیر کړه اوزید به کله کله ددی دراوستو دپاره تلی خو داپه تللو نه رضا کیدله. ددوو کالو څخه وروسته

---

(۱) وهی ای العدة في حق حرة تحیض لطلاق الخ بعد الدخول حقیقة او حکما الخ ثلاث حیض کوامل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ص۸۲۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۰۴) لا ینکح مطلقة من نکاح صحیح نافذ بها ای بالثلاث الخ حتی یطأها غیره الخ بنکاح نافذ الخ وتمضي عدته (ایضاً باب الرجعة ص۷۳۹ – ۷۴۰ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۴۰۹). ظفیر

(۲) قال الزوج الثاني کان النکاح فاسدا ولم ادخل بها وکذبته فالقول لها (درمختار) وعبارة البزازیة ادعت ان الثاني جامعها وانکر الجماع حلت للاولٰ وعلی القلب لا الخ (ردالمحتار باب الرجعة ص۷۴۲ ج۲). ظفیر

(۳) ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل الخ ولو عبدا اومکرها فان طلاقه صحیح (درمختار) ای طلاق المکره (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الطلاق ص۵۷۹ ج۲). ظفیر

(۴) وان کان الطلاق ثلثا الخ لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاح صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها اویموت عنها (هدایه باب الرجعة فصل فیما تحل به المطلقة ص۳۷۸ ج۲). ظفیر

هنده نوټس ورکی اواعلان یی وکی چی په دومره موده کی ماته خپل کورته بوزه کنې زه په قاعده دتفویض دطلاقو بین نامه خپل نفس ته طلاق اچوم زید نوټس ونه نیوی او خاموش پاته سو. ددی ښځه وروسته هنده دقاضی رجسټر ته ولاړه اوپه حضور دقاضی یی خپل ځان ته دری طلاقه ورکړل قاضی دطلاق نامه پررجسټر ګوته ځیني ولګوله دیو کال ښځه وروسته عمر دهندی سره نکاح وکړه هنده دعمر سره شل ورځی پاته سوه اوبیا زید ته راغله نوعمر په نوم دمذکوره زید اوبل دخالد په نوم داسی رپورټ وکی چی زید اوخالد زما ښځه زما دکور ښځه بیولی ده اوطلاق نامه دهندی یی حاکم ته وښووله، زید اوخالد اوهنده په مقرره ورځ حاکم دوخت ته حاضرسوه هنده جواب ورکی چی زید زما خاوند دی زه دده په کورکی اوسیږم اوعمر می خاوند نه دی پوښتنه وسوه چی دعمر سره دی واده کړیدی، ددی جواب یې ورکړی چی نه! بیا پوښتنه وسوه چی داطلاق نامه چي تا رجسټری کړیده؟ جواب یی ورکړی ماته پته نسته خو زما ښځه ګوته لګول سویده ددی ښځه وروسته حاکم دواړه خاوندان اوهنده یې معاینه کړل اوحکم یې وکړی چی دا دزید دپاره ده نه دعمر په اعتبار دورکړي دحاکم زید ته وروسته دعدی ښځه دا حلال ګرځی اوکه نه؟

جواب: چی کله هندې موافق دتفویض دزید خپل ځان ته دری طلاقه ورکړل اوهندې دعدی ښځه وروسته دعمرسره نکاح وکړه په دی صورت کی حکم دحاکم په دی چی هنده دزید ښځه ده هنده دزید په دی حلاله نه ده چی دنفوذ دقضاء باطنًا شرطونه دادی: چی دغه ښځه دبل چاپه نکاح کی نه وی، وفی الشامی: قوله وکما کانت المرأة محرمة هذا محترز قوله حیث کان المحل قابلاً آه فإذا ادعی أنها زوجته ، وأثبت ذلك بشهادة الزور ، وهو یعلم أنها محرمة علیه بکونها منکوحة الغیر أو معتدته أو بکونها مرتدة ، فإنه لا ینفذ باطنا اتفاقا الخ ردالمحتار (۱) ص۳۳۴ ج۴). فقط

دحلالی په صورت کی دمطلقه ثلاثه نکاح دعدی ښځه وروسته کیدی سی خو دنابالغ طلاق نه واقع کیږي: **سوال**: (۸۳۴) زید خپلی ښځی هندی ته دری طلاقه مغلظه ورکړه بیا ددی دیو نابالغ هلك عمر سره نکاح وسوه عمر فورا په مجلس کی دری طلاقه ورکړل دعدی دتیریدو ښځه وروسته زید نکاح وکړه بیا دعالمانو په دی قول چی دنابالغی سره وطی نه دي سوی نودهندی نکاح یی دبکر سره وکړه خودا نکاح په عده کی دننه وسوه بیا دخلوت صحیحه ښځه وروسته ده طلاق ورکی اوس دعدی ښځه وروسته زیدنکاح کولی سی.

جواب: قال فی الدرالمختار: امانکاح منکوحة الغیرومعتدته فالدخول فیه لایوجب العدة

(۱) ردالمحتار کتاب القضاء فصل فی الحبس مطلب فی القضاء بشهاة الزور ط.س. ج۳ ص ۴۰۵. ظفیر

ان علم انها للغیر لانه لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد (۱) اصلاً. نوکه ددی نابالغ نکاح په عده کی سوی وه نو ددی نابالغ نکاح صحیح نه سوه او دنابالغ طلاق نه واقع کیږی کما صرح به الفقهاء، اوچی نکاح په عده کی منعقده نه ده نودطلاقو ضرورت نسته خوکه دنابالغ سره دعدی څخه وروسته ددی مطلقه ثلاثه نکاح وسوه نونکاح منعقده سوه، اوبیا طلاق دنابالغ نه واقع کیږی، بیاچی کمه دبکر سره نکاح وسوه نوهغه ناجائز سویده اوزید چی کمه نکاح کړیده هغه هم صحیح نه ده سوی واضحه دی وی چی دمطلقه ثلاثه دخاوند اول سره دنکاح دصحیح کیدو دپاره ضروری ده چی دعدی څخه وروسته ددوهم سړی سره نکاح وسی او دی دوطی څخه وروسته طلاق ورکړی بیا دده عده دطلاقو هم تیرسی دغه وخت داول خاوند سره نکاح صحیح کیدی سی (۲). فقط

ددری طلاقو څخه وروسته نکاح حرامه ده اوپه عده کی نکاح صحیح نه ده: **سوال:** (۸۳۵/۱) دهندی رشته دارانو دزید څخه طلاق واخیستی دری واره بیازید اوهنده یوځای اوسیدل هنده دزیدڅخه حامله سوه په دی حالت دحمل کی یې دبل سړی سره نکاح وکړه نودانکاح جائزده اوکه نه؟ اودا حمل دهندی حلال دی اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کی دری طلاق واقع دی اودوهمه نکاح چی هنده دعدی دتیریدو څخه کړیده هغه صحیح نه سوه اوددی عده وضع دحمل ده اوزید ته که پته وه چی داپر ما حرامه سوه اوبیا ده ددی سره کوروالی کړیدی نودا زنا ده اوحمل حرام دی. په شامی کی دی: ومفاده انه لو وطئها بعد الثلث فی العدة بلا نکاح عالما بحرمتها لا تجب عدة اخریٰ لانه زنا وفی البزازیة طلقها ثلثا ووطئها فی العدة مع العلم بالحرمة لا تستأنف العدة بثلث حیض ویرجمان اذا علما بالحرمة (۳) ص۲۹۰ ج۲. وفی الدرالمختار وفی حق الحامل مطلقا الخ اومن زنا الخ وضع جمیع حملها (۴) الخ. فقط

مطلقه ثلاثه شیعه سوه نو اوس دا دمخکی خاوند دپاره حلاله ده اوکه نه؟ **سوال:** (۸۳٦/۱) یو سړی خپلی ښځی ته طلاق مغلظه ورکړل ددې څخه وروسته دداسی صورت تلاش مند سو چی داښځه دده نکاح ته بی دحلالی څخه راسی مفتیانو ورته انکار وکی شیعه ګانو دوکه ورکړه چی زموږ په مذهب کی بی له حلالی په نکاح کی راتلی سی نو دواړه شیعه

---

(۱) ردالمحتار باب العدة ص ۸۳۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۱۲. ظفیر

(۲) وان کان الطلاق ثلثا فی الحرة الخ لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیح ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها الخ (هدایه باب الرجعة فصل تحل به المطلقة ص ۳۷۸ ج۲). ظفیر

(۳) ردالمحتار باب العدة ص۸۳۷ مطلب فی وطی المعتدة بشبهة. ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب العدة ص۸۳۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۱۱. ظفیر

سوه اودامطلقه ښځه یی په نکاح کړه ددی سړی مورډده سره خبری کول اولیدل پرینښوول اوداسړی غواړی چی زه سنی سم په دی شرط چی داښځه زماپه نکاح کی باقی پاته وی، اوس داخبره معلوموو چی داکثرو عالمانو په نزد شیعه کافردی نو دده په سنی کیدو دا ښځه دده په نکاح کی راتلی سی بی له حلالی څخه او: الاسلام یهدم ما کان قبله، مؤثر کیدی سی اوکه نه؟

جواب: قال فی الشامی: أي لوطلقها ثنتين وهي أمة ثم ملكها، أوثلاثا وهي حرة فارتدت ولحقت بدارالحرب ثم سبيت وملكها لايحل له وطؤها بملك اليمين حتى يزوجها فيدخل بها الزوج ثم يطلقها [1] الخ، نوکه دا ومنل سی چی رافضی کیدل ارتداد دی بیا دسنی کیدو دپاره دحلالې ضرورت سته بی له حلالی مطلقه ثلاثه دخپل اول خاوند دپاره به حلاله نه وی. فقط

اتم فصل

متفرق مسائل دنکاح

<u>وروړ که دکشر وروړ دښځی سره زنا وکړی نو نکاح پاته ده اوکه نه؟</u> سوال: (۸۳۷) مشر وروړ دکشر وروړ دښځی سره ناجائز تعلق وساتی هلك پیداسو نودا مذکوره ښځه دخاوند په نکاح کی پاته ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح ددی ښځی فسخ نه سوه داښځه دخپل خاوند په نکاح کی ده [2] دده خوښه که خپله په نکاح کی یی ساتی اوکه طلاق ورکوی [3]. فقط

<u>دزنا کاري مددګار ګنهګاردي</u>: سوال: (۸۳۸) یوه کونډه ښځه دخاوند دمرګ څخه وروسته بدکاره سویده څوواره مسلمانانو داپوه کړه خودا نه منع کیږی یوحمل یې هم ضائع کی، ددی څخه وروسته یوهلك پیداسو چی ژوندی دی اودا ښځه دنکاح کولو څخه انکار کوی بعضی خلګ دښځی مددګار دی اوپه نکاح کولو کی مانع دی نو ددوی دپاره شرعًا څه حکم دی؟

جواب: ددی ښځی چی څنګه هم وی نکاح ضروری ده اوچی کم خلګ ددی مددګار دي او نکاح یی نه کوی ګنهګار دی توبه دی وکاړی. [4] فقط

---

[1] ردالمحتار باب الرجعة مطلب حيلة اسقاط عدة المحلل ص۷۴۱ ج۲. ظفیر

[2] لوزنت امراة رجل لم تحرم عليه وجاز له وطئها عقب الزنا (رد المحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۴). ظفیر

[3] لا يجب على الزوج تطليق الفاجرة ولا عليها تسريح الفاجرة الا اذا خافا ان لا يقيما حدود الله فلا باس ان يتفرقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۵۰). ظفیر =

چي دچا خوابنبي دده ښځه راتلو ته نه پریږدي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۸۳۹\۱) دبنده نکاح یوکال وسوه چي دیوې انجلۍ سره سویده خودوی دا دهوکه کوی اورا رخصت کوی یی نه شرعًا څه حکم دی؟

جواب: دشریعت فتوٰی هم داده چی ستا ښځه تاته رسیدل په کاردی اوددی مور لره لازم دی چی په رخصت کولو کی وروستوالی ونه کړی (۱). فقط

په سرکاري فیصلي سره په اصل نکاح کی هیڅ فرق نه دی راغلی: سوال: (۸۴۰\۱) دیوسړی نکاح دیوی ښځی سره وسوه ښځه اوخاوند ترڅه موده پوری رضا وه څه موده وروسته یو بل سړی داښځه ولمسوله اودکور څخه یی وایستله اودخپل ځان سره یی بوتله خاوند دعوه وکړه خوحاکم ښځی ته اختیار ورکی چی دچاسره یی خوښه وی اوسیږی دی قانونًا ددی نکاح ثبوت یی ونه غوښتی اوس معلومول دادی چی ددی سړی نکاح په سرکاری قانون سره په نه کیدوکی هغه نکاح ته چی شرعا ثابته ده څه نقصان رسیږی اوکه نه؟ او داسړی چی لمسه کوونکی دی اوښځه اوس دده سره ده اونکاح یی ورسره کړیده شرعا مجرم دی اوکه نه؟

جواب: په هغه نکاح کی چی په شرعی طور باندی ثابته ده پر هغه فرق باندی نه راځی او دتښتونکی نکاح ددی ښځی سره نسی کیدی ځکه چی دمنکوحة الغیر نکاح نه صحیح کیږی قال الله تعالٰی: والمحصنت من (۲) النسآء . فقط

که فلانی کار مو وکی نو دکعبی څخه دی وګرځو بیایی هغه کار وکی نونکاح پاته ده اوکه ماته؟ سوال: (۸۴۱\۱) دزید دکونډی هندی سره ناجائز تعلق وو زید اوهندی دکعبی طرف ته لاسونه کړل اوقسم یی واخیستی چی اوس که دا ناجائز فعل وکی نودکعبی څخه به بیرته راګرځیدلي وي څو ورځی وروسته دواړه بیا دناجائز فعل مرتکب سوه اوس زید توبه وکښله دزیدنکاح سوی ښځه هم سته نودزیدپه نکاح کی څه نقصان خونه دی راغلی؟

جواب: دزید نکاح دده دښځی سره باقی ده احتیاطًا دی نکاح تازه کړی اوددی قبیح کار څخه دی ځان وساتی . فقط

نابالغ او نابالغه نکاح تازه کول غواړي څه حکم دی؟ سوال: (۸۴۲\۱) دزید او دهندی نکاح

---

(۴) قال الله تعالی: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان (سورة النساء). ظفیر

(۱) ولا یمنعها من الخروج الی الوالدین في کل جمعة ان لم یقدرا علی اتیانها (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب النفقة ص۹۱۴ ج۲، ط.س. ج۳ ص۲۰۲) معلومه سوه چي ښځه دخاوند ترحکم لاندي وي نه دمور کمه مور چي دخاوند اودښځي په تعلقاتو کي مداخلت کوي هغه دشریعت له رویه ګناهګاره ده اوهغه دهمداسي فتنو ددروازو دخلاصولو سبب ګرځي. ظفیر

(۲) سورة النساء: ۴. ظفیر

په نابالغی کی سویده دوی نکاح تازه کول غواړی چی مهر وغیره ورته یادنه دی څه حکم دی؟

دښځی سره یی لواطت وکی نوڅه حکم دی؟ (۸۴۲\۲) زید دخپلی ښځی سره لواطت وکی نو نکاح ختمه سوه اوکه نه؟

جواب: دنکاح په تازه کولو کی څه باك نسته (خوچی شرعًا نکاح سویده نوددی ضرورت نسته ولي چی دنابالغو نکاح په ذریعه دولی جائز ده). فقط

۲. په نکاح کی څه نقصان نسته خوتوبه دی وکاړی اوبیادی داقبیح فعل نه کوی. ([1])فقط

دوې انجوني یو دبل سره مبتنی دی نکاح یی څنګه وکړو؟ سوال: (۸۴۳\) دوی انجونی یوځای پیداسوی اودیو بل سره پیوستي دی چی یوه متیازو وغیره لره ځی نودبلی تلل هم لازم دی اوس دا انجونی لویی سویدی او واده کول غواړی اویو سړی ددوی سره په واده راضی دی نوکه ددی سړی ددوی سره واده وسی نود: وان تجمعوا بین الاختین، په خلاف به وی اوکه نه؟

جواب: چی کله دادواړي انجونی په یوبل پوری پیوستي دی او دیو بل څخه نسی جلا کیدی نوترڅو چی دوی داپریشن په ذریعه جلا نه سی ترهغه وخته پوری ددوی نکاح دیوسړی سره هم جائزنه ده ځکه چی که ددواړو انجونو نکاح دیوسړی سره وسی نوپه دی کی جمع بین الاختین لازمیږی چی په آیت د: وان تجمعوا بین الاختین، سره حرامه ده، اوکه دیوه سره وسی نودا جلا کیدی نه سی اودخاوند ددی څخه استمتاع حلاله نه ده او مقصود استمتاع ده په درمختار کتاب النکاح کي دي: هو عقد یفید ملك المتعة ای حل استمتاع الرجل من امرأة لم یمنع من نکاحها مانع شرعی ([2]) الخ . فقط

ددی زمانی اخیستل سوی ښځی سره بی نکاح وطی صحیح نه ده نکاح ضروري ده: **سوال**: (۸۴۴\) په دی زمانه کی ښځی په ډیره مشکله پیدا کیږی اوکه پیدا سي هم نوداسی چی لیری ځای ته خلګ ځی اوپه بیعه یی اخلی دداسی ښځو سره بی دنکاح څخه صحبة جائز دی اوکه نه؟ ځکه چی زر خرید سوه، اوکه نابالغه ښځه داسی پیداسی نوڅه حکم دی؟

۲. زموږ په زمانه کی چی دمالدارانو په کورونو کی کمی مینځی دی دهغو څخه هم پرده سته اوکه نه؟ اوبی نکاح ورسره صحبت جائزدی اوکه نه؟

([1]) دښځي سره لواطت حرام دی او خاوند په دې کار باندي دتعزیر لائق ګرځي: او بوطئها دبرا قال ان فعل في الاجانب حدان في عبده او امته او زوجته فلا حد اجماعاً بل یعزر بنحو الاحراق بالنار وهدم الجدار الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ص۲۱۴ ج۳، ط.س. ج۴ ص۲۷ کتاب الحدود). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب النکاح ص۳۵۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴. ظفیر

جواب: (۱) دابنځی مینځی نه دی ددوی سره بی نکاح صحبت اوخلوة حرام دی اونکاح ددوی سره وروسته دبالغیدو ځخه په اجازه کیدی سی. فقط

(۲) دامینځی نه دی ددوی سره صحبت بی نکاح صحیح نه دی اوپرده هم سته ([1]).

ترپنځلسو کالو پوری چی خاوند خبر وانه خلی نوهم نکاح باقی ده: سوال: (۸۴۵) دهندی دنکاح شل کاله وسوه اودپنځلسو کالو راهیسی خاوند په وجه دخفګان ددی خبر دنان اونفقه نه اخلی اونه صحیح صحبت دښځی اودخاوند په مینځ کی سته په داسی صورت کی دهندی نکاح قائمه ده اوکه نه؟

جواب: په داسی صورت کی دهندی نکاح باقی ده ځکه چی عند الحنفیة په نفقه نه ورکولو سره دښځی او خاوند تفریق نه سی کیدی نو دخاوند ځخه بی طلاقه یادخلع دصورت ځخه علاوه بل څه صورت دجدایی نسته نفقه چی څنګه وی دخاوند ځخه دی وصول سی. قال فی الدرالمختار: ولا یفرق بینهما بعجزه عنها بانواعها الثلاثة الخ ولا لعدم ایقائه ولوغائبا ([2]) حقها. الخ

دښځی دخور سره زنا موجب دحرمت یا دفسخ دنکاح نه کیږی: سوال: (۸۴۶) درابعه نکاح دزید سره وسوه، هنده درابعه خورده اودزید سره زنا ځینی وسوه نودرابعه نکاح ساقطه سوه اوکه نه؟

جواب: درابعی نکاح دزید سره نه ده فسخ خو دهندی سره دده نکاح نه سی کیدی اوچی کم حرام فعل ده وکی توبه دی وکاږی اودهندی ځخه دی جلاسی ([3]). فقط

دانجلی والا دهلک والا ځخه روپی اخیستل جائز نه دی: سوال: (۸۴۷) نن رواج دی چی دانجلی پلار روپی واخلی اونکاح کوی سړی یی په خوښه یاپه ناخوښهٔ ورکوی دارواج جائزدی اوکه نه؟ اوداسی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: روپی اخیستل صحیح نه دی ددی واپس کول ضروری دی ([4]) اونکاح صحیح ده ([1]).

([1]) دازادو ښځو اخیستل او خرڅول حرام دی اودخلاف شرع په اخیستلو او خرڅولو باندی دا دمینځو په حکم کی نه راځی. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب النفقة ص۹۰۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر

([3]) وفی الخلاصة وطی اخت امراته لاتحرم علیه امراته (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۴). ظفیر

([4]) ومن السحت ما یاخذه الصهر من الختن بسبب بنته بطیب نفسه حتی لوکان بطلبه یرجع الختن به (ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ص.... ج۵. ط.س. ج۳ ص۳۲۴) اخذ اهل المرأة شیئا عند التسلیم فللزوج ان یسترده لانه رشوة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ص۵۰۳ ج۲، ط.س. ج۳ ص۱۵۶). ظفیر

خاوند ښځې ته وويل ستا دفلانی سره تعلق دی اوس دا ساتلی سی اوکه نه؟ سوال: (۸۴۸\) زيد خپلی ښځی ته وويل چی ستا دعمرسره ناجائز تعلق دی خودا دروغ وه هيڅ تعلق هم نه وو خودزيد په دی ويلو سره دابنځه په ضد کی راغله اودزيدسره يی تړوقی شروع کړی آيا زيد خپله ښځه ساتلی سی اوکه نه؟

جواب: دزيد ښځه دزيد په نکاح کی ده اوزيد لره ضروری نه ده چی ديته طلاق ورکړی خو دده پرښځی دالازم دی چی دپردی سړی سره تړوقی کول بند کړی اوبی پردی دي دده په مخکی نه راځی، اودخپل خاوند اطاعت دی وکړی که داسی نه کوی نوعند الله دا سخته ګنهګاره ده دی لره پکاردی چی دتيرو سوو نامناسبه کارونو څخه توبه وکاړی.

دانجلی دواده اخراجات دچا پرذمه دی؟ سوال: (۸۴۹\) دلور په واده کی چی کم خرڅ وسی نودا دپلار پرذمه دی اوکه نه؟

جواب: چی کمه ضروری خرچه دجامو زيوراتو وغيره ده هغه دی پلار دخپل طاقت موافق وکړی اوپه فضوليات اوخلاف شرع کارونو کی دی خرڅ ونه کړی. فاذا بلغ فليزوج فی رواية من بلغت ابنته اثنتی عشرة سنة ولم يزوجها فاصابت اثما فاثم ذالك عليه. (ص ۲۷۱ مشکوٰة باب الولی. ظفير). فقط

دحاملی عن الزنا سره په نکاح کولو يوسړی دخاندانه ايستل څنګه دی؟ سوال: (۸۵۰\) زيد دحاملی عن الزنا سره نکاح وکړه خوزيد دخاندانه بهر سو په دی صورت کی شرعا څه حکم دی؟

جواب: دحامله عن الزنا سره نکاح صحيح ده خوکه نکاح دغير زانی سره وی نودوضع تر حمل پوری ددې سره وطی کول صحيح نه دی نوکه ده دحمل دوضع څخه مخکی وطی نه وی کړی نوده څه خلاف شرع کار ونه کی ده لره دخاندانه څخه ايستل نه دی پکار، خوښه زورنه ورته ورکول په کاردی چی دحمل څخه مخکی کوروالی ونه کړی اوکه ده کوروالی کړی وی نوبيا واقعی قابل دتعلق پرينښولو دی اوهم ددی وجه څخه په حالت دحمل کی په نکاح کولوکی احتياط مناسب دی چی وطی ونه سی ([2]). فقط

ديو جواب متعلق پوښتنه: سوال: (۸۵۱\) زيد دعمر څخه سوال وکی چی خالد په بل وطن کی واده وکی نوايا دی په زور خپله ښځه خپل وطن ته راوستلی سی؟ عام ددی څخه چی

([1]) ولکن لايبطل النکاح بالشرط الفاسد وانما يبطل الشرط دونه يعنی لوعقد مع شرط فاسد به لم يبطل النکاح بل الشرط (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المحرمات ص۴۰۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۳). ظفير

([2]) وصح نکاح حبلی من زنا الخ وان حرم وطؤها ودواعيه حتی تضع (الدرالمختار علی هامش رد المحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۸). ظفير

ده هلته داوسيدو اقرار کړيدی اوکه نه؟ عمر جواب ورکی په دی باب کی راجح داده چی حکم په رايه دمفتی به کيږی لکه چی علامه شامی دبحر څخه دفقيه ابو الليث اودفقيه ابوالقاسم صغار قول بی درضا دښځی مطلقا دعدم جواز رانقل کړيدی اوپه درمختار کی هم پردی دفتوٰی تصريح رانقل کړي اوپه محيط کی دي ته مختار ويل نقل کړيدی او په تفويض الامر الی المفتی سره يې جزم کړيدی لکه چی دطويل بحث څخه وروسته فرمايی: فتعين تفويض الامر الی المفتی وليس هذا خاصا بهذه المسئلة بل لوعلم المفتی انه يريدنقلهامن محلة الی محلة اخری فی البلدة بعيدة عن اهلها لقصد اضرارها لايجوز له ان يعينه علی ذالك (۱) الخ. نوکه دشان دخالد څخه عدم اضرار ظاهروی چی خالد پايبنده دشريعت پرهيزګار وی نومفتی لره په جواز فتوٰی ورکول پکاردی اوکه اضرار ښکاره وی داسی چی خالد فاسق اوفاجر دی نوفتوٰی دعدم جواز دی ورکړی نو دعمر جواب صحيح دی اوکه نه؟

جواب: جواب دعمر صحيح دی.

دانجلی ولی ته دانجلی دخاوند يا دده دولی څخه پيسی اخيستل جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۸۵۲) دانجلی والاؤ په وخت دنکاح کی دخاوند دطرفه پيسی اخيستل څنګه دی؟

جواب: دا روپی دانجلی داولياؤ دپاره اخيستل صحيح نه دی اوفقهاء دارشوت ګرزوی په درمختار کی دی: اخذ اهل المراة شيئًا عند التسليم فللزوج ان يسترده لانه رشوة. بزازية (۲). فقط

دځه عيب دوجه څخه واده نه وی نو دواده دپاره دانجلی مور اوپلار ته څه ورکول څنګه دی؟

سوال: (۸۵۳) زه روند يم زما واده نه کيږی که دانجلی مور اوپلار ته څه روپی ورکړم او واده وکم نوجائز ده اوکه نه؟ يا دشهوت دکمولو دپاره څه دواء استعمال کړم؟

جواب: که په طور دهديی ته دانجلی مور او پلار ته څه روپی يامزکه ورکړی اودوی ستا سره دانجلی نکاح وکړی نوجائز ده او دشهوت کمولو دپاره دځه دواء استعمال نه دی پکار په حديث شريف کی دی چی دچانکاح نه وی سوی نوروژه ساتل دده شهوت ماتوی نوچی ترکمه نکاح نه وی سوی ډيری روژی نيسه چی دبدخيال څخه محفوظ يی (۳). فقط

دخاوند دمرګ اطلاع ورته وسوه ښځی دعدی تيريدو څخه وروسته بل واده وکی بيا خاوند راغی څه حکم دی؟ سوال: (۸۵۴) که يوسړی جنګ يابل وطن ته ولاړی څه موده وروسته

---

(۱) ردالمحتار باب المهر مطلب فی السفر بالزوجة ص۴۹۲ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۱۴۲. ظفير

(۲) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب المهر ص۵۰۳ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۱۵۲. ظفير

(۳) ومن لم يستطع فعليه بالصوم فانه له وجاء متفق عليه (مشکوٰة شريف کتاب النکاح ص۴۲۷). ظفير

دده دمرګ خبر په ذریعه دخط یاپه ذریعه دسرکار پیدا سو دده منکوحه عده ختمه کړه اودوهم واده یې وکی دنکاح څخه وروسته داسړی پخپله راغی اوس ښځه شرعا دچاده که دمخکی خاوند ده نو دنکاح تازه کولو ته ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: دواپسی څخه وروسته داښځه مخکی خاوند ته ورکول پکاردی اودنکاح دتازه کولو ضرورت نسته (۱). فقط

چی له چا سره نکاح وکړم په هغه باندی یې تعلیقاً دری طلاقه وویل او کار یې وکی نو بیاڅه صورت دی؟

سوال: (۸۵۵) زید په یومعامله کی قسم واخیستی چی که زه فلانی کار وکم نوچی کمه نکاح کوم یاچی کمه ښځه په نکاح کوم پردې دی طلاق مغلظ وی اوبیایی داکار وکی اوداسی څوقسمونه یې واخیستل اومات یې کړه نواوس دده دنکاح بعضی خوداصورت ښیی چی په وجه دخوف دزنا یاده ته یقین دزنا وی نو دضرورت دوجه څخه جائز دی اویو داصورت دی چی دزید نکاح دی په ذریعه دفضول وکیل وسی اوزید دی په خپلی ژبی سره قبوله کړی. یو داچی زید دی قبول بالفعل وکړی اوکه زید دا ووایی چی ما قبوله کړه نوڅه حکم دی؟

جواب: په داسی تعلیق کی فقهاؤ دوه صورتونه دعدم حنث لیکلی دی یوداچی فضولی ددی نکاح وکړی اودی په فعل اجازه ورکړی یعنی داسی فعل وکړی چی دهغه څخه رضا ثابته سی اوپه ژبه اجازه ورنه کړی مثلا ددی مهر دینه ولیږی اودمهر لیږلوڅخه وروسته دی وطی وکړی یادی مچ کړی نوحانث به نه وی یعنی طلاق به واقع نه وی اودوهم صورت به داوی چی دی دا ولیکی چی ماته منظوره ده، په درمختار کی دی: حلف لا یتزوج فزوجه فضولی فاجازه بالقول حنث وبالفعل ومنه الکتابة الخ لایحنث (۲) نو معلومه سوه چی مخکنی صورت او دوهم صورت دعدم حنث نه دی، دمخکی صورت دجواز خوچاهم نه دی لیکلی اوپه دوهم صورت کی یې چی قبول په خولی لیکلی دی او دوکیل لفظ هم دی ددی وجه څخه داهم صورت دعدم حنث نه سی کیدی صرف دریم صورت دعدم حنث یعنی دعدم وقوع دطلاق دی یاچی دکتابت په ذریعه قبول وی نو بیا

(۱) ولو ان امراة اخبرها ثقة ان زوجها الغائب مات عنها او طلقها ثلثا اوکان غیر ثقة واتاها بکتاب من زوجها بالطلاق الخ فلا بأس بان تعتدکم تتزوج (هدایه کتاب الکراهیة ۴۵۳ ج۴) غاب عن امرأته فتزوجت بآخر (لما اذا بلغها موته اوطلاقه فاعتدت وتزوجت ثم بان خلافه شامی) وولدت اولاداً ثم جاء الزوج الاول فالاولاد للثانی علی المذهب الذی رجع الیه الامام وعلیه الفتوٰی کما فی الخانیة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار فصل فی الحاد ص۸۲۸ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۵۵۲). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الیمین في الضرب والقتل مطلب حلف لا یتزوج ص۱۸۸ ج۲. ط. س. ج۳ ص۸۴۲. ظفیر

جائز دی. ([1]) فقط

چی دکمی ښځی سره ځو واره نکاح وکړم هروار پردی دری طلاقه، چی چا وویل نوځه تدبیر دی وسی؟ **سوال**: (۸۵۶/۱) یوسړی وویل چی دیوی ښځی سره ځوواره نکاح وکړم هروار دی پردی دری طلاقه وی نوپه دی صورت کی دجواز دنکاح څه صورت دی؟

جواب: په دی صورت کی چی دی کله هم دیوی ښځی سره نکاح وکړی په هغه به دری طلاقه واقع کیږی اوحیله دجواز یې په درمختار کی داده چی دفضولی دنکاح جواز دی او اجازه دی په فعل سره وکړی نه په قول سره عبارت دادی: کل امراة تدخل فی نکاحی اوتصیر حلالا لی فکذا ای طالق فاجاز نکاح فضولی بالفعل کبعث المهر مثلا لا یحنث الخ ([2]). فقط

خاوند ښځه دخپل ځان سره بل وطن ته بوتللی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۸۵۷/۱) یوسړی خپله ښځه دځان سره افریقی ته بیایی اودده دلیری سفر دوجه ښځه اوددی قریبان انکارکوی خاوند یې په جبر بیولی سی اوکه نه؟ خاوند وایی چی دخپلی ښځی څخه څلور میاشتی غائب اوسیدل ممنوع دی اوحضرت عمر داحکم کړی وو. صحیح ده اوکه نه؟

جواب: فقهاء په دی باره کی دا لیکی چی په دی زمانه کی په دومره لیری سفر باندی خاوند خپله ښځه نه سی بیولی که داپه خوښه ځی خوډیره ښه ده کنې په جبر سره دی نه بیایی اودحضرت عمر رضی الله عنه اثر که ثابت سی نوددی مطلب دادی چی خاوند لره پکاردی چی دی دخپلی ښځی څخه زیاته موده غائب نه وی په یوطریقه سره دی راسی ددی څخه دښځی په جبر دبیولو جواز خونه معلومیږی ([3]). فقط

په واده پوري طلاق معلق کړي نو دنکاح څه صورت دی؟ **سوال**: (۸۵۸/۱) دعمر دزید سره ناجائز تعلق وو عمر په زید دا الفاظ وویل که زه داتعلق ختم کړم نوچی کله زه نکاح کوم نوزماپرښځی دی دری طلاقه وی څوورځیوروسته زیدداتعلق قطع کی څه صورت داسی

([1]) وبالفعل کبعث المهر او بعضه بشرط ان یصل الیها الخ منه الکتابة ای من الفعل ما لو اجاز بالکتابة لما في الجامع حلف لا یکلم فلانا او لا یقول له شیئا فکتب الیه کتابا لا یحنث (رد المحتار باب ایضاً ص۱۸۹ ج۲. ط. س. ج۳ ص۸۴۲). ظفیر

([2]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الیمین في الضرب والقتل مطلب قال کل امرأة الخ ص۱۸۹ ج۲، ط.س. ج۳ ص۸۴۲. ظفیر

([3]) ویسافر بها بعد اداء کله موجلا ومعجلا اذا کان مامونا علیها والا لا یسافر بها وبه یفتی کما فی شروح المجمع واختاره فی ملتقی الابحر ومجمع الفتاوٰی واعتمده المصنف وبه افتی شیخنا الرملی لکن فی النهر والذی علیه العمل فی دیارنا انه لایسافر بها جبرًا علیها وجزم به البزازی وغیره وفی المختار وعلیه الفتوٰی والتفصیل فی الشامی (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب المهر ص۴۹۵ ج۲، ط.س. ج۳ ص۱۴۲). ظفیر

سته چی دانکاح صحیح سی؟

جواب: احناف فقهاء داحیله دجوازدنکاح اودعدم وقوع دطلاق په دی صورت کی لیکلی ده چی دده نکاح یوفضولی بغیر دده دحکم څخه وکړی اوبیا داسړی چی نکاح یی وسوه په خولی دی داقبول نه کړی بلکه ټول مهر یاڅه حصه دمهر دی ښځی ته ولیږی اوصحبت اوتقبیل وغیره دی وکړی نودا نکاح به صحیح وی اوطلاق به نه وی. کما فی الدر المختار: حلف لایتزوج فزوجه فضولی فاجاز بالقول حنث وبالفعل لایحنث به یفتی الخ قوله وبالفعل کبعث المهر (۱) الخ شامی جلد ۳ ص ۱۴۱. فقط

دطلاقو څخه وروسته مطلقه په بیل کورکی ساتل صحیح دی خو اختلاط ناجائز دی: **سوال**: (۸۵۹) یوسړی خپلی ښځی ته طلاق ورکی اوددی دخور سره یی نکاح وکړه او مخکی ښځه یی داولاد والاده اودا طلاق دځه مخالفت دوجه نه دی سوی بلکی ښځی دخپلی خور نکاح دخپل خاوند سره دکولو دپاره په خپله طلاق اخیستی دی اودی دخپل خاوند سره داشرط اینښی دی چی ماته دمهر پرځای ترژونده پوری جامه، ډوډی راکوه اودا طلاقه سوی ښځه په یوکور کی جلا اوسی آیا داسړی که دی ښځی ته جامه ډوډی ددی مهر په عوض یاپه احسان کی ورکړی نو جائزده اوکه نه؟ اودا ښځه دده په کورکی جلا اوسیدی سی اوکه نه؟

جواب: مخکی ښځی ته دطلاق ورکولو څخه وروسته چی کله ددی عده دطلاق ختم سی نوددی مطلقی ښځی دخور سره نکاح صحیح (۲) ده اودعدی څخه وروسته په خاوند دمطلقی ښځی نان اونفقه لازمه نه ده خوکه په مهرکی ددی نفقه ورکوی یا تبرعًا دې ته جامه ډوډی ورکوی نوجائزده اوپه جلا مکان کی که داښځه اوسیږی نوخیردی خوطلاق ورکوونکی خاوند دی ورسره اختلاط نه ساتی په درمختارکی دی: ولهما ان یسکنا بعد الثلاث فی بیت واحد اذا لم یلتقیا التقاء الازواج ولم یکن فیه خوف فتنة. انتهٰی (۳).

مراهقه ناوي خپل خاوند ته تللی سی: **سوال**: (۸۶۰) دیوی انجلی په دیارلسو کالو کی واده سویدی دادخپل مورسره اوسیږی اوددی مورډیره بدکرداره ده ددې سره په اوسیدو کی دانجلی دخرابیدو بیره ده اومور یی واده نه ورکوی دانجلی خاوند دعوٰی دزوجیت

---

(۱) وګوری ردالمحتار باب المهر ص۴۹۵ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص۱۴۲. ظفیر

(۲) وحرم الجمع بین المحارم نکاحا ای عقدا صحیحا وعدة ومن طلاق بائن (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۹۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۸). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش رد المحتار فصل فی الحداد ص۸۵۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۳۸. ظفیر

داخله کړیده آیاپه موجوده حالت کی خاوند دابیولی سی اوکه په وجه دنابالغیدو دانه سی رخصت کولی؟

جواب: ددیارلسو کالو انجلی مراهقه ده ددی وجه څخه داخاوند بیولی سی خاص بیا په مذکوره حالت دبیره کی خاوند اختیارمند دی چی دا دخپل ځان سره وساتی [1] (په حدیث شریف کی دی چی کله انجلی ددولسو کالو سی نوددی واده دی وسی، مشکوٰة شریف ص ۲۷۱، ددی څخه معلومیږی چی ددی عمر څخه انجلی خاوند ته حواله کول په کاردی. ظفیر). فقط

په دی شرط یی نکاح وکړه چی دده په کورکی به اوسیږم نونکاح به وی کنی نه به وی خاوند دنکاح څخه وروسته دا یووړله څه حکم دی؟ سوال: (۸۲۱\) زید دخپلی لور نکاح چی زینب نومیږی دعمر سره وکړه خوپه دی شرط چی دده په کورکی به اوسیږی نونکاح به باقی وی کنی نکاح به نه وی که دی خپله ښځه بوځی نونکاح به پاته وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح به باقی وی اوپه بهر بیولو سره به نکاح نه فسخ کیږی.

ښځه ووایی چی زما نکاح نه ده سوی په دی که قاضی نکاح وتړی نومجرم نه دی: **سوال**: (۸۲۲\) زه په یوجومات کی امام یم دماخستن دلمانځه څخه وروسته یوسړی راغی اوزه یی دنکاح دپاره وبللم هلته معلومه سوه چی دبلی محلی فلانی ښځه ده ماته شك سو ځکه چی ما اوریدلی وه چی ددی نکاح دیوبل سړی سره سویده ما ددی څخه پوښتنه وکړه دی په قسم بیان وکی چی نه ده سوی نوما نکاح وتړله نو پرما خوبه څه مواخذه نه وی مخالف فریق شور جوړکی چي ددی نکاح ستا په مخکی سویده، که سوی وی اوکه نه وی سوی په دواړو صورتونو کی زه مجرم یم اوکه نه؟

جواب: دفقه دکتابونو څخه معلومیږی چی که ښځه دا ووایی چی زما نکاح دچاسره نه ده سوی نو ددی دقول موافق نکاح تړل صحیح دی نوپه دی صورت کی پرنکاح تړونکی څه مواخذه نسته یا وروسته په تحقیق اوپه شاهدانو عادلو سره ثابت سی چی ددی نکاح مخکی سوی وه نودا دوهمه نکاح باطله ده اوښځه به مخکی خاوندته ورکول سی اوکه څه ثبوت دمخکی نکاح نه وی نو دوهمه نکاح به صحیح وی. فقط

دکوزدې څخه وروسته که بل ځای نکاح صحیح وی نوکول یې ښه دي: **سوال**: (۸۲۳\) دهندی دبکر سره صرف نیوکه سویده څه موده وه چی په دې دوران کی دهندی دولی

---

[1] وقد صرحوا عنه بان الزوجة اذا كانت صغيرة لاتطيق الوطى لاتسلم الى الزوج حتى تطيقه والصحيح انه غير مقدر بالسن بل يفوض الى القاضى بالنظر اليها من سمن اوهزال (ردالمحتار باب القسم ص۵۴۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۰۴). ظفیر

دوراره ښځه مړه سوه دهندی ولی دهندی نکاح دخپل وراره سره وکړه اوس څه کسان وایی چی دهندی ولی داخراب کار کړیدی اوچی کم خلګ په دی عقد کی شریك وه ټول ګنهګار دی چی کم ځای یی نیوکه سویده هم هلته کیدل په کاروو، په دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: کوزده اونیوکه صرف یوه وعده ده نوکه په بل ځای کی په نکاح کولوکی مصلحت وی نو مخکی نیوکه پریښوول اوبل ځای چی ښه دی هلته په نکاح کولو هیڅ حرج نسته اوګناه نه ده، اصل دادی چی ولی لره دانجلی ښه اومصلحت کتل ضروری دی چی کم ځای ورته دانجلی دپاره ښه معلوم سی هلته دی نکاح وسی اوکه ښه هغه ځای وی چی پرکم ځای مخکی نیوکه سوی وی نودوعدی موافق دی دا اختیار کړی ولي چی وعده پوره کول ډیر ښه دی خوکه داځای دانجلی دپاره ښه نه وی نوبل ځای کول ښه دی. فقط

چی غیر مطلقه ښځه په زور ساتی نو رشته دارانو لره څه کول په کاردي؟ سوال: (۸۲۴\)

دزید په رشته دارنو کی فیصله وسوه چی څوك خلاف دقاعدی کار کوی هغه به رسوا کوی زید دهندی سره دشلو پنځو ویشتو کالو راهیسی نکاح تړلی ده اوساتی یی حالانکه چی هنده ته ددی خاوند طلاق نه وو ورکړی خورشته داران تراوسه دزید سره خوراك څښاك کوی آیا په وجه دچپ پاته کیدو ګنهګار سو اوکه نه؟ که زید توبه وکاږی اودوباره نکاح وتړی نه پاك کیدی سی اوکه نه؟

جواب: رشته دارانو که سره دعلمه اوقدرته زید ددی ناجائز نکاح څخه نه وو بند کړی نو دوی به هم ګنهګار وي توبه دی وکړی ([1]) اوزید که اوس نکاح کول غواړی نو مخکی دی دهغه داول خاوند طلاق دي ته واچوی دعدی دتیریدو څخه وروسته زید ددی سره نکاح کولی سی او چی کمه ګناه یې تردومره مودی پوری کړیده نوددی څخه دی توبه وکاږی په دی طریقی سره زید پاکیدی سي او بیا دده په ورروری کی داخلول پکاردی.

هلک اقرار وکی چی دخسر کره به اوسیږم چی نکاح وسوه اوس اقرار نه پوره کوی څه حکم دي؟ سوال: (۸۲۵\) یوسړی دخپلی نابالغی لور نکاح دعمر سره په دی شرط وکړه چی عمر به پخپله په طور دزوی دده سره اوسیږی عمر تحریری اقرار نامه ولیکله اوس عمر خپل اقرار نه پوره کوی نو آیابی طلاقه ددا انجلی دوهمه نکاح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: ددی اقرارنامه دوجه دزید ښځه نه طلاقیږی اوبی طلاقه ددی انجلی نکاح دبل چا سره صحیح نه ده.

([1]) ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان (القرآن) کنتم خیر امة اخرجت للناس تامرون بالمعروف وتنهون عن المنکر (القرآن). ظفیر

دمور وصیت دنکاح په باره کی واجب العمل دی اوکه نه؟ سوال: (۸۲۶) یوی ښځی دا وصیت کړی دی اومړه سویده چی زما دنابالغه لور عقد به دنبی بخش دزوی سره نه کوی ددی وصیت دوجه ددی انجلی ددغه هلك سره کول پکاردی اوکه نه؟

جواب: په دی باره کی دمرحومه دوصیت هیڅ اعتبار نسته دبیا حق مقدم دی اوچی کم ځای دامناسب وګنی دنابالغی نکاح دی وکړی دمرحومی وصیت په دی باره کی څه اعتبار نه لری (۱). فقط

دچا ښځه چی کله ددرواغو دعوه وکړی چی زه دفلانی ښځه یم اوخاوند یی هم تائید وکړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۸۲۷) هنده دعمر ښځه ده خوزید چی صاحب جائیداد دی هنده په دی خیال چی زه دده دجائیداد وارثه سم هنده اوددی خاوند دعوٰی وکړه چی زه دزید ښځه یم اوپه دی یی شاهد پیش کړل اوعمر هم دلالچ دوجه څخه اقرار وکی چی هنده دزید ښځه ده په دی صورت کی دهندی نکاح دعمر سره فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: ددی ددرواغو په بیان هنده دعمر دنکاح څخه نه وزی. کذا فی الدرالمختار والشامی. فقط

سره دپوهی چی شاهدی ورنه کړی دهغه څه حکم دی؟ سوال: (۸۲۸) درحیم بی بی دنکاح پنځه کاله سویدی چی دغلام محمد سره سویده مذکوره ښځی دفسخ دنکاح دعوٰی وکړه شهاب الدین ته دنکاح پوره علم دی خودغه وخت دی منکرسو دده دپاره څه حکم دی؟

جواب: چی دمذکوره ښځی نکاح دشرعی قاعدی موافق سویده نوخاوند لره پکاردی چی شاهدان عدالت ته راولی اوچی کمو خلګوته دنکاح علم دی پر هغوی لازمه ده چی شاهدی دنکاح ورکړی کنی ګنهګاربه وی (۲) اودغه مذکورسړی چی سره دپوهی منکر دی دمذکوری نکاح نودا شرعا فاسق اوعاصی دی. ده لره ددې څخه توبه کښل پکاردی اوکه توبه ونه کاږی نودده سره دی قطع تعلق وسی اودی دخاندانه بهر کول په کاردی.

دوی خوندی دیو بل سره پیوستي دی ددوی دواده څه صورت به وی؟ سوال: (۸۲۹) دوی انجونی توامین (غبرګولی) دی دیوی راسته کوناتی دبلی دچپه کوناتی سره یوځای دی داسی چی نه یوه یوازی کښېنستی سي نه ولاړیدی سی نه پریوتی سی نه ښوریدی سی

---

(۱) الولی فی النکاح العصبة بنفسه بلا توسط انثی علی ترتیب الارث والحجب الخ بشرط حریة وتکلیف واسلام فی حق مسلمة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ص۴۲۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص۷۶). ظفیر

(۲) ویجب اداءها بالطلب ولوحکما الخ لوفی حق العبد الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتارکتاب الشهادات ص ۵۱۳ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۴۶۳). ظفیر

نه اودس مات ته تللی سی دومره خو ماپه خپلو سترګو لیدلی دی اودومره می دنورو
څخه اوریدلی دی چی خوراك هم په یوځای کوی بیدی کیږی هم یوډول ناجوړه کیږی هم
یوځای ښه کیږی هم یوځای مرض هم ددواړو یووی اولوی اودس ماتی هم په یوځای او
طهرهم. ددیارلسو څوارلسو کالو دی دلوی اودس ماتي ځای ددواړو جلا جلا دی خو
دتش اودس ماتی ځای دیوی سته اودبلي نسته خوچی کله یوه متیازی وکړی نوبله هم
فارغه کیږی په هرحال دلیکلو څخه داپوښتنه مقصود دی چی که دادواړه مسلمانانی وی
یا اوس مسلمانانی سی نو ددوی دنکاح به شرعی صورت څنګه وی؟

جواب: مکرمی جناب مولانا حکیم محمدجمیل صاحب مدّفیوضهم السلام علیکم ورحمة
الله وبرکاته. خط راورسیدی. او واقعه عجیبه معلومه سوه، په کتابونو دفقه کی څه
جزئیه ددی حکم متعلق معلومه نه سوه خو دقاعدی څخه په صورت مذکوره سره عدم
جواز دنکاح معلومیږی، په درمختار کی دنکاح تعریف دادی: هوعقد یفید ملك المتعة
ای حل استمتاع الرجل من امرأة لم یمنع من نکاحها مانع شرعی (١) الخ. اوپه شامی کی
دبدائع څخه منقول دی: ان من احکامه ملك المتعة وهو اختصاص الزوج بمنافع بضعها
وسائر اعضائها استمتاعا او ملك الذات والنفس فی حق التمتع علی اختلاف مشائخنا
فی ذالك (٢) الخ. ددی عبارتونو څخه معلومیږی بطریق الاجمال دومره چی په صورت
مسئوله عنها کی مانع شرعی داستمتاع څخه سته اوکه ددی لحاظ وسی چی دیوه څخه
استمتاع دبلی څخه هم استمتاع ده نوبیاپه نص دحرمت دجمع بین الاختین څخه هم ددی
حرمت واضحیږی په هرحال جواز دنکاح په صورت دحالت موجوده کی نه معلومیږی
خوکه دوی په ذریعه دآپریشن جلا کړی نوبیا څه اشکال نسته. فقط

(که استمتاع دیو بل دپاره کافی کیږی نوپه دی صورت کی به دوی دواړه دیوه په حکم
ومنل سی نو دیوه سړی سره په واده کولو کی جمع بین الاختین به نه لازمیږی بلکه دیوه
حکم کول باندی په کاردی. په هرحال دامسئله قابلِ غور ده. ظفیر)

<u>په دی صورت کی نکاح وسوه اوکه نه؟</u> سوال: (۸۷۰) بالغی فاطمی ددوو شاهدانو په
مخکی وویل چی زه دزرو روپو نقدو دپنځو اویا روپو دجامو اودپنځه جریبه مزکی په
عوض کی ستاسره راضی یم. اسماعیل په جواب کی وویل: ماته ټول منظور دی. نو
فاطمی وویل اوس زه ستاسوم اسماعیل وویل ماقبوله کړی بیا فاطمی وویل ما خپل
ځان تاته تسلیم کی اسماعیل وویل ماته منظوره ده بیا دواړو ډیرو خلګو ته ددی اطلاع

(١) الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب النکاح ص۳۵۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴. ظفیر
(٢) ردالمحتار کتاب النکاح ص ۳۵۵ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴. ظفیر

وکړه نونکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی په شرط دنیت دنکاح اوفهم المقصود نکاح منعقده سوه فی الدرالمختار: وعداهما کنایة وهو کل لفظ وضع لتملیك عین کاملة درمختار (علی هامش الشامی ص ۲۹۵ ج۲). فقط

دښځو بدلول: **سوال**: (۸۷۱) ددوو ورونو په نکاح کی دوی خوندی وی دواړو طلاق ورکی اوکشر ورور دمشر ورور دښځی سره نکاح وکړه اومشر ورور دکشر ورور دښځی سره نکاح وکړه اوس بیا خپلی ښځی واپس کول غواړی؟

جواب: دواړه ورونه دی طلاق ورکړی اودعدی څخه وروسته دخپلو پخوانیو ښځو سره نکاح کولی سی. فقط

حرامه نکاح تړونکی څنګه دی؟ **سوال**: (۸۷۲) دواده سوی منکوحه نکاح تړونکی څنګه دی؟ **جواب**: فاسق دی اوکافرنه دی. فقط

داولاد په باره کي دخاوند وعده دنکاح پوره کول څنګه دی؟ **سوال**: (۸۷۳) دزید نکاح دخالد دلور سره په دی شرط وسوه چی دده دښځی دنس څخه چی کمه انجلی پیدا سوه دی به دا دخالد دزامنو په اولادکی یوه ته په نکاح کوی زید اوخالد دواړه مړه سوه دزید لور پیداسوه اوس بالغه ده دخالد لمسی لا تراوسه نه دی بالغ ددی څخه علاوه دزید اودخالد کفو هم جلا ده آیا دښځی پرذمه دزید وعده پوره کول ضروری دی اوکه نه؟ او که دزید ښځه دزید لور دزید په کفو کی په نکاح کړی؟

جواب: ددی وعدی پوره کول ضروری نه دی اودزید داسی وعده دده دښځی په ذمه پوره کول ضروری نه دی دزید دلور نکاح په کفوکی چی چیري هم مناسبه وی ودی سی.

دګناه څخه دخلاصولو دپاره دډمی سره واده کول ښه دی اوکه په خاندان کی؟ **سوال**: (۸۷۴) یوی ډمی دزیدڅخه داوغوښتل چی زید ددی په کسب پریښوولو کی ددی امداد دی وکړی یعنی زید دی ورسره عقد وکړی، نوآیا زید لره به په خپل خاندان کی واده کول ښه وی اوکه په نظر دثواب دا ډمه په نکاح کی راوستل ښه دی؟

جواب: دزید ددی سره عقد کول صحیح دی اوددی وجه څخه چی دده په نکاح کولو دا ښځه توبه کاړی ده ته به ثواب حاصل سی خوکه زید ددی دوجه دابیره وی چی په غیر خاندان اوغیر کفوکی په نکاح کولو کی به دی مطعون اودده خاندان به دی پریږدی یابه یی مطعون کړی نوبیا ورسره په خپل کفو کی نکاح کول ښه دی غرض داچی نکاح ددی زانیی سره صحیح ده اوچی کله دا توبه کوی او ددی په توبه اوپه استقامت باندی اطمینان وی نو ددی سره په نکاح کولو کی هیڅ حرج نسته باقی دخپلو مصلحتونو

دخاندان دی هم لحاظ وساتي چي څنګه مصلحت وی هم هغسی دی وکړی شریعت دی ددې سره په نکاح کولو باندی هم نه مجبوروی اونه یی ځینی منع کوی؟

دسرکاری عدالت څخه دطلاق ډګری په اخیستو سره طلاق خوبه نه واقع کیږی؟ سوال: (۸۷۵) زید په بوډاتوب کی دپیغلی هندی سره نکاح وکړه څوورځو وروسته هندی دزید څخه طلاق وغوښتی چی زه به مهر معاف کړم ته ماته طلاق راکړه زید دطلاق څخه انکار وکړی دهندی په دعویٰ کولو باندی حاکم دعدالت هندی ته دطلاق ډګری ورکړه اوس هنده ددوهم سړی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی هنده دبل چا سره نکاح نسی کولی (ځکه چی داډګری شرعا دطلاقو په حکم کی نه ده. ظفیر). فقط

په نکاح او واده کی څه فرق دی او اولاد اکبر څه ته وایی: سوال: (۸۷٦) په نکاح سوی ښځه اوواده سوی ښځه کی څه فرق دی په دواړو کی دچا اولاد اوکم اولاد به اکبر وی؟

جواب: زموږ په ښارونو کی واده اونکاح یوشی دی اوپه شریعت کی هم دادواړه یودی ځکه چی په کم یوه کی ایجاب اوقبول دی هغه نکاح ده اوهم داواده دی نونکاح سوی ښځه اوواده سوی ښځه دواړی منکوحی دی [۱] اوپه دواړو کی چی دچا څخه هم اولاد پیداسی هغه دخاوند اولاددی اوچی په دوی کی کم اولاد مشروی هم دغه اول اواکبردی اوچی کمه ښځه بی ایجاب اوقبول څخه په کورکی وساتی هغه دده ښځه نه ده اوددی څخه چی کم اولاد پیداسی هغه دده څخه ثابت النسب نه دی.

په صورت مسئوله کی څه حکم دی؟ سوال: (۸۷۷) دوزیر خان نکاح دنصیبه نومی ښځی سره په عمر داتلسو کالوکی وسوه ناوي لانه وه تلی چی وزیرخان ته دنکاح څخه وروسته په جرم داعانت دقتل عمد سزا وسوه تورو اوبو ته دشلو کالو دپاره، مخکی یې خطونه راتلل وروسته بیا دوه دری کاله بندوو دوزیر کشر ورور جمن داخبره مشهوره کړه چی وزیر مړدی اوخپله یی نکاح دنصیبه سره وکړه دوزیر خان خطونه بیا راتلل شروع سوه دجمن څخه دنصیبه دوه هلکان پیدا سوه بیا جمن مړسو دوه کاله وروسته دجمن کشر ورور ناظرخان دمذکوره ښځی سره نکاح وکړه دناظر خان څخه یی هم څلور هلکان پیدا سوه وزیر خان بیرته راغی اوخپله دوهمه نکاح یی وکړه وزیرخان ناظرخان ته وویل چی ما لاتراوسه طلاق نه دی ورکړی زماڅخه طلاق واخله چی زمانکاح ماته سی خوبیاطلاق

[۱] وينعقد بايجاب من احدهما وقبول من الاخر الخ وشرط سماع كل من العاقدين لفظ الاخر وحضور شاهدين حرين اوحر وحرتين مكلفين سامعين قولهما معا (الدرالمختار على هامش رد المحتار كتاب النكاح ص۳۲۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۹ و ۲۱). ظفير

ونه سو دری څلور کاله وروسته ناظرخان نصیبه دکوره وایسته او وزیر خان بی له نکاح وساتله ([1]) او وزیرخان دا وویل چی ما لا طلاق نه دی ورکړی او ددوهمی نکاح دجمن سره چی سوی وه دهغه ده ته اطلاع هم نه وه آیا دوزیر خان نکاح ماته سوه؟

۲. چی وزیر په خپلو سترګو لیدل چی دده ښځه دبل سړی سره اوسی نودده صرف دا ویل چه زما څخه طلاق واخلی کنې زما نکاح باقی ده.

۳. که دوزیرخان نکاح نه ده ماته نو دجمن او دناظر خان اولاد شرعا ثابت النسب دی؟

۴. اوس دوزیر خان نصیبه لره ساتل جائز دی اوکه نه؟

۵. آیا دناظر خان څخه دطلاق اخیستو ضرورت نسته.

جوابونه: ۱. دوزیر خان نکاح په دی صورت کی نه ده ماته سوی.

۲. دوزیر خان نکاح په دې صورت کې قآئمه ده اوپه دې صورت کې پرده طلاق واجب نه وو ([2]) ګنهګار هغه سړی دی چی سره ددی علمه چی مذکوره ښځی ته طلاق نه دی ورکول سوی اوددی خاوند سته اوده ورسره نکاح وکړه اوپه خپل کورکی یی وساتل.

۳. دا اولاد دجمن اودناظر څخه صحیح النسب نه دی. ([3]) کما ورد فی الحدیث: الولد للفراش وللعاهر الحجر ([4]). ۴. جائز ده. ۵. دطلاق ضرورت نسته.

<u>دازاده به کړم په ویلو سره هیڅ هم نه کیږي</u>: **سوال**: (۸۷۸) یوسړی دی چی دهغه مینځه نسته ده وویل چی ازاده به یې کړم نودی واده وکړی اوکه نه؟

جواب: داقول دده خطادی په دې سره هیڅ هم نه کیږی داسړی دی نکاح وکړی هیڅ حرج پکښی نسته اوپه دی الفاظو دده ښځه نه طلاقیږی. فقط

<u>انجلی بالغه سوه اوهلک لا بالغ نه دی څه دي وسی؟</u> **سوال**: (۸۷۹) زید دخپلی لور نکاح دعمر دزوی سره په نابالغتوب کړیده اوس یې لور بالغه سوه اوهلك به دوه دری کاله وروسته بالغ کیږی په دی صورت کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب:دانکاح انجلی‌نسی فسخ کولی هیڅ صورت دتفریق په حالت دنه بالغ کیدودخاوند کی نسته اوچی کله خاوند بالغ سی که هغه طلاق ورکړی نوطلاق واقع کیدی سی ددی

([1]) چي کله يې طلاق ورنکړی نو نکاح هم نه سوه ماته. ظفير

([2]) لا يحب على الزوج تطليق الفاجرة (درمختار) والفجور يعم الزنا وغيره وقد قال صلى الله عليه وسلم لمن زوجته لا ترديد لامس وقد قال انى احبها استمتع بها ط.س. ج۲ ص۴۲۷. ظفير

([3]) اما نكاح منكوحة الغير معتدة فالدخول فيه لايوجب العدة ان علم انها للغير لانه لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا الخ ولهذا يجب الحد مع العلم بالحرمة لانه زنا (ردالمحتار باب المهر ص۴۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۵۱۲). ظفير

([4]) مشکوٰۃ باب اللعان ص ۲۸۷. ظفير

څخه علاوه بل صورت دجدایی اودجواز ددوهمی نکاح دښځی دپاره نسته. (دهلك دبالغیدو دی انتظار وسی اوانجلی دی دصبر څخه کاروا خلی اوروژی دی نیسی، ظفیر).
فقط

چی څوک دخور سره دزنا مرتکب سی دهغه سزا: **سوال**: (۸۸۰\) یوسړی دخپلی خور سره په زنا کولو عبدالغنی په خپلو سترګو ولیدی اودی یی وترتی چی دوو درو سړیانو واوریدل خپلوان څه سلوك ورسره وکړی؟

جواب: دیوسړی په شاهدی شرعًا زنانه ثابتیږی اودښځی اقرار دسړی په حق کی معتبرنه دی، ددی وجه څخه شرعی څه حد اوسزا نه سی کیدی خو چی شبهه راغله اوتهمت ولګیدی نو دوی دواړه دی جلا سی اویو ځای دی ونه اوسول سی. فقط

چی کمی ښځی ته تر اوسه لاحیض نه دی راغلی دهغې سره وطی: **سوال**: (۸۸۱\) دښځی سره دحیض راتلو څخه مخکی وطی صحیح دی اوکه نه؟

جواب: چی کله ښځه قریب البلوغ وی که څه هم بالغه نه وی وطی صحیح دی ورسره ([1]).

عزل کله صحیح دی؟ **سوال**: (۸۸۲\) عزل کول کله صحیح دی؟

جواب: داصیلی ښځی سره عزل مکروه دی خوچی کله دا اجازه ورکړی نوبیا روادی ([2]).

سرکاری عدالت چی په فاسقو شاهدانو سره څه ثابت کړی هغه صحیح نه دی دسړی خبره معتبره ده: **سوال**: (۸۸۳\) زید خپلی ښځی ته یوطلاق ورکی اوپنځلس ورځی وروسته یی رجوع وکړه بیاشپاړس کاله وروسته ددوی دواړوپه مینځ کی نا اتفاقی راغله یوسړی چی دزید شریك وو په غولولو سره دا دزید دکوره وتښتوله څو ورځی وروسته راغله او ددری طلاقو اقرار یی وکی په جرګه کی شاهدانو بیان ورکی چی ماته یادنه دی چی زید یوطلاق اچولی وو اوکه دری دزیدڅخه قسم واخیستل سو زید دیوطلاق قسم واخیستی بیاهندی په دیوانی عدالت کی دعوی وکړه اوفاسق شاهدان یی پیش کړه دعدالته یی ډګری حاصله کړه په صورت مسئوله کی به دهندی شاهدان معتبروی اوکه نه دزید قسم؟

جواب: دمذکوره شاهدانو شاهدی شرعًا معتبره نه ده ([3]) بلکه دزید قول اوقسم معتبردی اودده دشریك فاسق سره متارکت صحیح دی اوهنده دزید ښځه ده اودده دشریك نکاح دهندی سره صحیح نه ده. هکذا فی کتب الفقه ([4]). فقط

([1]) وقد صرحوا عنه بان الزوجة اذا كانت صغيرة لاتطيق الوطی لاتسلم الی الزوج حتی تطيقه والصحيح انه غير مقيد بالسن بل يفرض الی القاضی بالنظر اليها من سمن اوهزال (ردالمحتار باب القسم ص۵۴۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۰۴).

([2]) ويعزل عن الحرة باذنها لكن فی الخانية انه يباح فی زماننا لفساده قال الكمال فليعتبر عذرا مسقطا لاذنها (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب نكاح الرقيق ص۵۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۷۲). ظفير =

سنتول داسلام شعاردی خو ناوی ورکول پردی موقوف نه دی: **سوال**: (۸۸۴/۱) دپنځه ویشتو کالو زید په اسلام کی داخل سو اودده نکاح دیوی نوی مسلمانی نابالغی سره وسوه اوس چی کله منکوحه دزید بالغه سوه نودده دناوی ورکولو دپاره دده سنتول شرط لګوی اوزید ددی تکلیف څخه منع کوی داګناه ده اوکه نه؟اودمنکوحی په ناوی ورکولو کی شرط دده دسنتولو څنګه دی؟

جواب: سنتول داسلام شعاردی دزید انکار کول دسنتیدو څخه معصیت دی اومذموم دی، دی ضرور سنتول په کاردی (۱) او رخصتول دمنکوحی شرعا پردی موقوف نه دی ده لره ناوی ورکول پکاردی. فقط

په لاندینی صورت کی څه حکم دی؟ سوال: (۸۸۵/۱) زید قسم واخیستی چی که زه داکار وکړم نوچی زه دکمی ښځی سره اوکله هم نکاح وکړم نوهغه ته هم دغه وخت طلاق دی، طلاق دی، طلاق دی، زید هغه کار وکی اودقاضی څخه یی دمسئلی پوښتنه وکړه قاضی وویل اوس تا لره په هیڅ صورت کی هم یوه ښځه هم حلاله نه ده یوسړی زید ته وویل چی مرتدسه اوبیا مسلمان سه که دیوی ښځی سره نکاح وکړی نوصحیح به وی په دې سره زید مرتد سو او بیایی کلمه وویله اومسلمان سو اودیوی ښځی سره یی نکاح وکړه دا نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی هغه سړی چی زید ته یی وویل مرتد سه الخ کافر سو. کذا فی شرح فقه الاکبر (۲) (ددی یوښه صورت دجواز فقهاؤ لیکلی دی چی دده نکاح دی یو فضولی وکړی اودی دي اجازت بالفعل وکړي یعنی مهر یاتحفه یاداسی یوبل فعل دی وکړی چی دلالت پراجازه دنکاح کوی یادی اجازه په لیکلو ورکړی کذا فی الشامی وقاضی خان. فوجه الشبه بین المسلمین الردة واللحاق والسبی لم تبطل حکم الظهار واللعان کم لم تبطل حکم الطلاق الخ ، ردالمحتار). فقط

چی اتلس کاله غائبه وی ښځه اوبیا راسی نوددی نکاح باقی ده اوکه نه؟ سوال: (۸۸۶/۱) چی کمه ښځه اتلس کاله مفروره وی اوبیا راسی نوددی نکاح باقی ده اوکه نه؟ اودمفقود الخبر ښځی حد شارع څومره موده مقرره کړیده؟

(۳) والفاسق انما ترد شهادته بتهمة الکذب (ردالمحتار کتاب الشهادة ص۵۲۱ ج۴. ط.س. ج۳ ص ۴۷۲). ظفیر
(۴) دغیر مسلم عدالت فیصله په نکاح اوطلاق کی شرعا نافذه نه ده، وګوره: الحیلة الناجزة. ظفیر
(۱) لان الختان سنة للرجال من جملة الفطرة لایمکن ترکها (ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة ص۲۳۲ ج۵. ط.س. ج۳ ص ۴۰۲). ظفیر
(۲) شرح فقه اکبر ص۲۲۵. ظفیر

جواب: نكاح دده باقي ده ښځه چې وتښتي اومفقود الخبره سي په هيڅ صورت کی هم ددی نكاح نه ماتيږي. فقط

جنج ته خوراک ورکول اوخوراک کول څنګه دي؟ سوال: (۸۸۷) دزيد دزوی واده دعمر دلور سره كيدو والا وو عمر درواج مطابق دزيد قريبانو ته دجنج (لومړی شپې) خوراك وركول غواړي زيد انكار كوي چې درسم او رواج عام كيدل مسلمانانو دهندوانو څخه زده کړيدی او دارکم ددی دعوت ثبوت په قرون ثلاثه وو مشهود لها بالخير کی نسته ددی وجه څخه موږ لره هم په وجه دالتزام دما لايلزم اودهندوانو دشعاركيدو په وجه ځان ساتل پكاردي عمر وايي داخيال خطا دی دجنج خوراك دام المومنين حضرت ام حبيبه ﷺ دعقد څخه صفا ثابت دی ځكه چې دانجلي دطرفه په ملك حبش کی دعوت سوی وو، ددی څخه علاوه وليمة العرس مسنون كيدل ثابت دی اودعرس لفظ په ښځی اوپه سړي دواړو اطلاق کيږي ددی وجه څخه دجنج ددعوت خوراك كول جائز دی نوپه شرع شريفه کی دچا قول صحيح دی؟ اودجنج خوراك عند الشرع څنګه دی؟ اوپه ملك حبش کی چې کم دعوت په وخت دعقد دحضرت ام حبيبه ﷺ سوی هغه دشاه نجاشی دطرفه وو چې دحضرت پيغمبر ﷺ وكيل وو اوكه دخالد بن مسعود ﷺ دطرفه وو چې دحضرت ام حبيبه ﷺ وكيل وو؟

جواب: داښكاره ده چې درسمونو پابندی کم حدته رسيدلی ده داشرعا مذمومه ده ځكه چې دالازم ګڼل سوی دی په منزله دلازم ددی سره معامله ده چې ددی پرينښوول شرم ګڼل کيږي اودانه خوښيږي چې داشرم دی اختيار سی كه څه هم دقرض نوبت راسی او كه څه هم دسود په ذريعه قرض حاصل سی نوښكاره ده چې ددی قسم ناروا پابندی شريعت په هيڅ صورت جائز نه سی ساتلی، كه جنج ته خوراك وركول صرف په طور ددعوی درشته دارانو اوپه طور دخوشحالی وی اوڅه شرعی محظورات اومنهيات پكښی نه وی نوپه دی کی هيڅ حرج نسته غرض داچې په خپله په دی کی څه بدی نسته دعوارضِ مروجه دوجه څخه خرابی پكښی راځی، باقی وليمة العرس دانه ده ددی په ځای كه په دی موقع دخوشحالی داظهار دپاره دعوت وكړی نونه داجنج ته خوراك دی اونه دوليمه په طور ده خو ددی په اباحت کی په شرط دعدم دلزوم دمفاسدو هيڅ كلام نسته وليمه چې كمه مسنونه ده دهغه مخاطب سړی دی اودا دخاوند دطرفه وی لكه چې داحاديثو اودتعامل څخه داښكاره ده اودجناب رسول الله ﷺ قول اوفعل پردی صراحةً دلالت كوی. دزيادت او دتطويل موقع نه ده اونه ورته ضرورت سته په اجماع دامت دامسلمه ده چې دا دسړو دطرفه وی نه ددی خطاب چيري ښځو ته سويدی نه دا يوی ښځی وركړيدی. فقط

چې ښځه او خاوند دیوه پیر مریدان سی نو په نکاح کی هیڅ فرق نه راځي: **سوال**: (۸۸۸) یوسړی دیوشاه صاحب مرید سو اودده ښځه هم دده مریده سویده اوبچی یی هم دده مریدان دی په دی حالت کی ددی ښځی اوخاوند رشته پاته ده اوکه نه فرق راغی اوښځه او خاوند په پیری کی ورور خور سول اوکه نه؟

جواب: ښځه اوخاوند چی دیوپیر مریدان سو نوددی سره نه په نکاح اونه په بله معامله کی څه فرق راځی بلکی په کارده چی ددی سره تعلق دښځی اوخاوند ولی زیات مضبوط سی درسول الله ﷺ په اصحابو کی ښځی اوخاوند دواړو بیعت کوی اوهسی هم ټول مسلمانان ورونه خوندی دی، انما المومنون اخوة، (١) په قرآنکریم کی وارد دی حاصل دا چی په دی کی څه وهم مه کوی. فقط

دښځی سره دجماع دپاره څه عمر مقرر نه دی: **سوال**: (۸۸۹) دعبدالله نکاح دشریفه سره په عمر دلسو کالو په شرعی شرطونو سویده اوشریفی ته دیوولسو کالو په عمر حیض راغی نوددی سره عبدالله ته دیوځای کیدو اجازه سته اوکه نه؟

جواب: کوروالی ددی سره صحیح دی هیڅ شرط په دی کی نسته قال الله تعالی: الرجال قوامون علی النساء. الآیه (٢) وقال الله تعالی: وللرجال علیهن درجة (٣) الآیه . فقط

دمنکوحی سره دکوروالی دپاره ددی دولی څخه داجازی ضرورت نسته: **سوال**: (۸۹۰) چی کله نابالغه منکوحه بالغه سی اودخاوند سره وی نوآیا دمنکوحی وارثانو ته دکوروالی اطلاع یا تری اجازه اخیستل ضروری دی اوکه نه؟

جواب: هیڅ حاجت داطلاع ورکولو او داجازی اخیستو نسته (۴). فقط

دډمی کسب ښه دی اوکه دشیعه سره نکاح: **سوال**: (۸۹۱) دډمی سره کسب کول اوخوراك کول ښه دی اوکه دشیعه سره نکاح کول ښه دی؟

جواب: دغه دواړه حرام دی (۵). فقط

---

(١) سورة الاحزاب. ظفیر

(٢) وقد صرحوا عنه بان الزوجة اذا کانت صغیرة لاتطیق الوطؤ لاتسلم الی الزوج حتی تطیقه والصحیح انه غیر مقدر بالسن بل یفوض الی القاضی بالنظر الیها من سمن اوهزل (ردالمحتار باب القسم ص۵۴۹ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۲۰۴). ظفیر

(٣) سورة النسآء : ۴. ظفیر

(۴) قال رسول الله ﷺ اذا احدکم اعجبته المراة فوقعت فی قلبها فلیواقع. الخ رواه مسلم (مشکوٰة باب النظر فصل اول). ظفیر

(۵) قال رسول الله ﷺ ثمن الکلب خبیث ومهر البغی خبیث (مشکوٰة باب الکسب ص۲۴۱) وهی الزانیة والمراد بمهرها اجرتها ثم اطلق الخبیث علی الثلثة وهو فی الاصل ضد الطیب فیطلق علی الحرام حاشیة مشکوٰة =

<u>په نافرماني دښځې نکاح نه ختميږي</u>: سوال: (۸۸۲\) په نافرمانی کولو ښځه دنکاح څخه بهر کیږی اوکه نه؟ ۲. منکوحه ښځه دخاوند داجازه بغیربی پردی په بازارونوکی گرځی. ۳. منکوحه ښځي دډمو په شان کسب دزنا اختیار کړی. ۴. دنکاح دورځی څخه خاوند دخرچی خبرنه اخلی اوښځی دسړی موافق نه ده اودزنا په ذریعه روزی حاصلوی نوداسی ښځه په شریعت کی دخپل خاوند دښځی کیدو قابله کیدی سی چی دده سره یې نکاح سوی وه؟

جواب: په دی بدو افعالو سره ښځه دخاوند دنکاح څخه نه بهر کیږی ([1]). فقط

<u>په زنا کولو سره نکاح ماتيږي اوکه نه؟</u> سوال: (۸۹۳\) زانیه ښځه ښه ښکاره زنا کوی ایا دداسی ښځی نکاح ماتیږی اوکه نه؟ **جواب**: نکاح باقی ده ([2]).

<u>دداسي ښځي اوسړي سره بايد څه سلوک وسي</u>: سوال: (۸۹۴\) دداسی دیوث سړی اوښځی سره باید څه سلوك وسی؟

جواب: دوی ته دی وویل سی چی توبه وکاږی (اوداسی صورت دی اختیار سی چی دوی توبه وکاږی). فقط

<u>دبدعت کوونکو دښځو نکاح باقي ده اوکه نه؟</u> سوال: (۸۹۵\) دهندوستان ښځی واهیات عقیده اودشریعت خلاف کارونه کوی تردی چی په بعضو کی دشرك بیره پیداسی یعنی زیارتونو ته تلل اومراد غوښتل په تهوکی کولو په دی حالت کی ددوی نکاح باقی ده او که نه؟ اوپه توبه کولو نکاح کول دوباره په کارده اوکه مخکی نکاح کافی ده بعضی ښځی یې په پوهولو سره هم نه منی که دوی ته خرڅ وغیره ورنه کول سی نوصحیح ده اوکه نه؟

= ص۲۴۱) وحرم نکاح الوثنیة (درمختار) وفی عبدة الاوثان عبدة الشمس الی قوله: وکل مذهب یکفر به معتقده (ردالمحتار ص۳۹۷ ج۲، ط.س. ج۳ ص ۴۵). ظفیر

([1]) په مرتدوالی یا دخاوند په طلاق ورکولو سره ښځه دنکاح څخه وزي، وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب نکاح الکافر ص۵۳۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص۱۹۳) ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل الخ لحدیث ابن ماجه الطلاق لمن اخذ بالساق (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطلاق ص ۵۷۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص۲۳۵) لوتزوج بامراة الغیر عالی بذالك ودخل بها لاتجب العدة علیها حتی لایحرم علی الزوج وطؤها وبه یفتی لانه زنا والمزنی بها لاتحرم علی زوجها (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۲ – ۴۰۳ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۰). ظفیر

([2]) بدلیل الحدیث ان رجلا اتی النبی ﷺ فقال یارسول الله ان امراتی لاتدفع ید لامس فقال طلقها فقال ان احبها هی جمیلة فقال استمتع بها (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۵۰) لو زنت امراة رجل لم تحرم علیه وجاز له وطوها عقب الزنا (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۳۸۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۴). ظفیر

جواب: نکاح قائمه [۱] ده خوپه دوی توبه کنبل په کاردی او دبیا دپاره دوی دداسی کارونو څخه بندول په کاردی اواحتیاطاً دنکاح په تجدید کولوکی څه حرج نسته او همیشه دوی ته نصیحت کول په کاردی اونفقه ددوی شرعی واجب ده دامه بندوی. فقط

چی څوک په ښځه دزنا کسب کوی دهغه نکاح باقی ده اوکه نه؟ سوال: (۸۹۶) چی کم سړی په خپله ښځه دزنا کسب کوی اوددی ګټه خوری نوآیا دده نکاح فسخ سوه اوکه نه؟

۲. چی کم سړی دخپلی منکوحی اولاد ته دحرام تخم ووایی نودده دنکاح څه صورت دی او ایاپه ذریعه دلعان ددی ښځی اودسړی نکاح ماته سوه اوکه نه؟

جواب: داسړی ډیر ګنهګار اوبی حیا دی، ده لره توبه کول لازم دی، حدیث پاك دی: ان لکل دین خلقًا وخلق الاسلام الحیاء. [۲] اوددی ډېره هم حرامه ده. حدیث پاك دی: ومهر البغی خبیث [۳] اوددی استعمال هم حرام دی. حدیث پاك دی: قال رسول الله لایدخل الجنة جسد غذی بالحرام [۴] اوپه زنا کولوسره نکاح نه ماتیږی اودده په ویلو سره دبچی نفی نه کیږی دده نسب ثابت دی، په عالمګیری کی دی: ولا ینتفی بمجرد النفی وانما ینتفی باللعان [۵] اودلعان څخه وروسته چی حاکم تفریق وکړی نوښځی ته یی طلاق بائن واقع کیږی. کما فی الدرالمختار فان التعنا ولو اکثره بانت بتفریق الحاکم [۶] خودلعان دپاره ددار اسلام کیدل شرط دی اوپه دی زمانه کی هغه مفقود دی، ددی وجه څخه بی دطلاق ورکولو څخه بغیر نکاح نه سی فسخ کیدی. فقط

دزنا څخه وروسته نکاح باقی ده او داسی ښځه که څوک ساتی نوساتلی یې سی: سوال: (۸۹۷) زید اوعمر دواړه باجه ګان دی عمر دزید ښځه یعنی خپله خوښینه وتښتوله څه موده یی ددی سره حرام کول ددی څخه وروسته ددوی په مینځ کی جنګ وسو اوعمر دا پریښووله اوجلا سو، دی مذکوره ښځی بی طلاقه نکاح وکړه نوپه دی صورت کی ددی اصلی خاوند اول زید که په دی رضامند سی نوساتلی یې سی اوکه نه؟ او آیا داښځه دزید په نکاح کی ده اوکه دنکاح ووتله، دوهم دعمر دښځی نکاح قائمه ده اوکه نه؟ ځکه چی ددی خاوند دخپلی خوښینی سره زنا وکړه؟

---

[۱] وفی النهر تجوز مناکحة المعتزلة لانا لا نکفر احدا من اهل القبلة وان وقع الزاما فی المباحث (الدرالمختار علی هامش رد المحتار ص ۳۹۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص۴۵ فصل فی المحرمات). ظفیر

[۲] مشکوٰة باب الرفق والحیاء حسن الخلق ص ۴۳۲. ظفیر

[۳] مشکوٰة باب الکسب وطلب الحلال ص ۲۴۱. ظفیر

[۴] مشکوٰة باب ایضا ص ۲۴۳. ظفیر

[۵] عالمګیری مصطفائی باب ثبوت النسب ص۱۲۳ ج۱ ط. ماجدیة ج۱ ص ۵۳۲. ظفیر

[۶] الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب اللعان ص۸۱۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص۸۴۴. ظفیر

جواب: دزید په نکاح کی دده ښځه باقی ده په تښتیدو او په زنا دزید ښځــــه دده دنکاح څخه نه خلاصیږی (١) اوزید دی دا وساتی اوتوبه دی باندی وکاږی اودعمر نکاح دخپلی ښځی سره قائمه ده دخوښینی سره په زنا کولو دده نکاح باطله نه ده (٢) خوعمر گناه کړیده توبه دی وکاږی. فقط

تم الجزء السابع من فتاوٰی دارالعلوم دیوبند مدلل ومکمل بتوفیق الله تعالیٰ وکرمه تحت اشراف فضیلة الشیخ حکیم الاسلام مولانا القاری الحافظ محمد طیب دامت فیوضه مدیر دارالعلوم دیوبند وحفید مؤسس الدار الموصوفة علی ید العبد الضعیف محمد ظفیر المفتی غفر الله ذنوبه ورفع شانه (وقام بترجمته الی اللغة الأفغانیة ثم بتنقیحه وتصحیحه العبد الضعیف الفقیر لرب الجلیل محمَّد أحمد الحقاني الأفغاني عافاه الله تعالیٰ وغفر له جمیع ذنوبه) . آمین (١٩ ذی الحجة سنه ١٣٨٩ هـ.ق)

ویلیه الجزء الثامن ان شاء الله تعالیٰ

کتابت:

الحافظ المولوي نور احمد النوراني الحقاني

القاري عبد الاحد الحقاني

السبت، ٢٨ مارس، ٢٠٠٩ الموافق: شنبه، ٢٨/٠٣/٢٠٠٩



(١) والمزنی بها لاتحرم علی زوجها (ردالمحتار فصل فی المحرمات ص٤٠٣ ج٢. ط.س. ج٣ ص٣٢). ظفیر
(٢) وفی الخلاصة وطی اخت امراته لاتحرم علیه امراة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار فصل فی المحرمات ص٣٨٢ ج٢). ظفیر

فتاویٰ
دارالعلوم
دیوبند
مدلل و مکمل



۸



دموجوده وخت په دار الافتآء کې دمروجه نسخو مطابق ، دنوي تخریج سره اعلیٰ کمپوټرې چاپ

فتاویٰ دار العلوم دیوبند

مُدلّل و مکمّل

په آسانه او روانه کندهارۍ پښتو

اتم جلد ۸

کتابُ النّکاح (نصفِ آخر)

تالیف: مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی ؒ
((ددار العلوم دیوبند اول مفتی))

په لار ښوونه د: حکیم الاسلام حضرت مولانا قاري محمدطیّب صاحب ؒ (مهتمم دارالعلوم دیوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفیر الدین صاحب ، رفیقِ شعبۂ ترتیبِ فتاویٰ دار العلوم دیوبند

اضافه تخریج جدید: مولانا مفتی محمد صالح ، رفیقِ دارالافتآء جامعة اسلامیه ، بنوری ټاؤن کراچی

ژباړه ، تعلیق او تحقیق: مولانا الحافظ محمّد أحمد الحقاني الأفغاني ، فاضلِ حقانیه ، پشاور

زیرِ نګراني: شیخ الحدیث حضرت مولانا الشیخ عبد القادر النهرکاریزي (دامت بر کاتهم العالیة)

مکتبهٔ حبیبیه

کاسی روډ ، کوئټه ☏ : 0812662448

al-ilmcorp@hotmail.com

لومړی چاپ

۱۴۲۹ شعبان \ اګست 2008

Maktabah Habibiyah — مکتبه حبیبیه

Publishing Organization — خپرندویه ټولنه

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارګ بازار کندهار ، افغانستان ، ګرځنده تلیفون

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجد نور ، کوئټه ، تلیفون شمیره

AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپیوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تلیفون شمیره

دفتاوٰی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست، جلد ❽

داتمی حصې فهرست ختم سو

* * *

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

الحمد لله رب العٰلمین والصلٰوة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله وصحبه اجمعین.

پنځم باب

دنکاح ولایت کمو خلکو ته حاصل دی؟

اول فصل

ددی باب متعلق مسائل اواحکام

دعصبه او دمور نه کیدو په صورت کی ماما ولی دی؟ سوال: (۱۸۷۰) دهندی نابالغی نه څوك عصبه سته اونه یې مور سته بلکی صرف دذوی الارحام څخه یې یومیریزی ماما او یوسکه خاله (ترور) پاته دی نوحق دولایت دنکاح دچا دی؟

جواب: دنابالغی دنکاح ولایت په دی صورت کی دمیریزی مامادی. کمافی الدرالمختار: ثم لذی الارحام العمات ثم الاخوال ثم الخالات الخ (۱). نوماما دترور څخه په تمامو اقسامو سره په ولایت دنکاح کی مقدم دی، ددی وجه څخه میریزی ماما دسکه ترور څخه مقدم دی.

دمیریزی ورور او داکا په وجود کی دمور دنابالغی دنکاح اختیار نسته: سوال: (۱۸۷۱) یوه انجلۍ چی تقریبا دیوولس کالو ده ددی قریبان دادی، سکه مور، میریزی پلار، میریزی ورور، اومشر اکا، اوکشر اکا دی، دانجلۍ مور خپل خاوند ته دانجلۍ دنکاح اجازه ورکړه دانکاح صحیح سوه اوکه نه؟ اوس پنځه کاله وروسته انجلۍ دوهمه نکاح کول غواړی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: دمیریزی بالغ ورور اوداکا په وجود کی مور لره دنابالغی دنکاح اختیار نسته او نه میریزی پلار ته اختیار سته ځکه چی په دی صورت کی اول میریزی ورور ولی وو دده څخه وروسته اکا ولی دی (۲)، ددی وجه څخه هغه نکاح چی مور اومیریزی پلار کړیده که میریزی وروراجازه ورکړه نونکاح صحیح سوه کنې نوباطله سوه (۳) په صورت دبطلان دنکاح کي انجلۍ ته دبالغـــیدو څخه وروسته اختیار سته چی په خپله یاددی ولی په

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۰ ، ط.س. ج۳ ص۷۹. ظفیر

(۲) الولی فی النکاح لا المال العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب فیقدم ابن المجنونة علی ابیها (در مختار ج۳ ص۷۲) ثم یقدم الاب ثم ابوه ثم الاخ الشقیق الخ ثم الاب (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷ – ۴۲۸، ط.س. ج۳ ص۷۲). ظفیر

(۳) فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۲. ط.س. ج۳ ص ۸۱). ظفیر

په اجازه ددې په کفوکی نکاح وکړی. فقط

دپنځلسو کالو انجلۍ بالغه ده دنابالغه انجلۍ ولی اکا دی: سوال: (۸۷۲) کریم دخپلی لور دلور (لمسی) شکورن چی ددی عمر تقریبا پنځلس کاله دی، نکاح یې دشیخ محمد سره سویده ددی مور اواکا وایي چی ددی عمر یوولس کاله دی آیا نیکه ته دنکاح اختیار بی له رضا داکا اودمور سته اوکه نه؟

جواب: انجلۍ چی ترڅو دپنځلسو کالو پوره اوپه شپاړسم کال کی داخله سوی نه وی نو شرعًا دیته بالغه نه سی ویل کیدی ترڅو چی څه بله علامه دبلوغ په شان دحیض وغیره نه وی ښکاره سوی او دنابالغی دولی په وجود کی دسکه اکا نیکه نه سی کیدی نو دشکورن نابالغی نکاح چی دده نیکه کړیده موقوفه ده پراجازه داکا که ددی اکا اجازه ورکړی نوصحیح ده کنې نو باطله ده ([1]). فقط

داکا په وجود کی دمور ولایت نسته: سوال: (۸۷۳) هنده کونډه سوه اوددی دوی نابالغی لونې دی نوهندی دوهم واده وکی اواوس ددوهم خاوند په ذریعه دخپلو لونو نکاح کول غواړی خو دانجونو اکا مانع دی که مور یادوهم خاوند دانجونو نکاح وکړی نوڅه حرج اوګناه خونسته اودهندی دمړ خاوند په ذمه چی کم قرض وو دهغه ذمه دار څوك دی؟

جواب: په دی صورت کی دنابالغی دنکاح ولی اکا دی دده په وجود کی مور ولایت دنکاح نسی کولی اودوهم خاوند خوپه هیڅ حال کی ولی نه دی اوشرعی مسئله هم داده ([2]) اودمړی په ذمه چی کمه قرضه وه که هغه څه لږ ډیره قرضه پریښی وی نوددی څخه به اداسی اوکه نه یې پریښوی نودوارثانو په ذمه ادا کول دقرض لازم نه دی که تبرعًا یې څوك ادا کړی نوده ته اختیار دی. فقط

دنابالغی نکاح دی دولی په ذریعه وسی یا دی ددی دبالغیدو انتظار وسی؟ سوال: (۸۷۴) دیوی انجلۍ چی دیوولسو کالو نابالغه ده دواده انتظام وسو خوددی په اولیاؤ کی ماسوا دنیکه او دانا (دمور مور) څخه نور څوك نسته هغوی هم ددی ځای څخه څلور زره میله لیری په افریقه کی دی آیا ددی داکا ښځه دي ددې ولی سی اونکاح دي وکړی اوکه څه وسی؟

([1]) الولی فی النکاح العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب الخ فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (ایضا ج۲ ص۴۲۷ – ۴۳۲. ط.س. ج۳ ص۷۲). ظفیر

([2]) أقرب الأولیاء إلی المرأة الابن ثم ابن الابن وإن سفل ثم الأب ثم الجد أبو الأب وإن علا الخ ثم الأخ لأب وأم ثم الأخ لأب ثم ابن الأخ لأب وأم ثم ابن الأخ لأب وإن سفلوا ثم العم لأب وأم ثم العم لأب ثم ابن العم الخ (عالمگیری کشوری، کتاب النکاح، الباب الرابع الاولیاء ج۲ ص۲۹۱. ط.س. ج۳ ص۲۸۳). ظفیر

جواب: داولیاؤ څخه وروسته دصغیره دنکاح ولایت دباچا داسلام یادقاضی دی خوچې دوی نسته نوانتظار دی وسی دبلوغ یا دنیکه نه دی په تحریر اجازه طلب سی. کما فی الدرالمختار فان لم یکن عصبة فالولایة للام ثم لام الاب الخ وفی الشامی فتحصل بعد الام ام الاب ثم ام الام ثم الجد الفاسد الخ ثم لذوی الارحام الخ ثم للسلطان ثم لقاض نص علیه فی منشوره ثم لنوابه الخ (۱) فقط

دوروڼو په وجود کی مور نکاح نه سی تړلی: **سوال**: (۸۷۵) یوه انجلۍ چې دهغې عمر دیارلس کاله دی اودهغې دوه بالغان وروڼه موجود دی ددی نکاح مو بی له رضا دوروڼو څخه تړلی ده دانکاح جائزده اوکه نه؟ او دا انجلۍ بالغه ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی مور چې کمه نکاح بی اجازته دوروڼو کړیده دا دوروڼو پراجازه موقوفه ده که په دوی کی یوه سړی هم دنکاح اجازه ورکړه اودا نکاح یې جائز وګرځوله نوصحیح سوه اوکه نه یوه هم اجازه ورنه کړه انکار یې وکی نونکاح باطله سوله. هکذا فی کتب الفقه (۲) (ددیارلسوکالو انجلۍ چې نبښانی دبلوغ یې نه وی نودانابالغه ده. ظفیر). فقط

بالغه په خپله مرضی سره نکاح کولی سی: **سوال**: (۸۷۶) دعمر لمسۍ (دلور لور) تقریبًا دپنځلس کالو ده اوعلامت دبلوغ سته او دانجلۍ مور پلار ورور هیڅ هم نسته دانجلۍ دنیکه (دپلار پلار) ورور زید په دی خبره زور لګوی چې دانجلۍ ولی زه یم بغیر زما درضامندی څخه نکاح یې نه دی کول په کار انجلۍ بالغه ده اوکه نه اوانجلۍ دعمر په رضامندی سره نکاح کول غواړی اوزید چې ځانته ولی وایي هلته یې نکاح نه کول غواړی په دی صورت کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: علامه دبلوغ دانجلۍ دپاره حیض وغیره کیدل دی که څه علامه دبلوغ نه وی نو چې پوره دپنځلسو کالو سی اوشپاړسم کال شروع سی دغه وخت انجلۍ شرعًا بالغه ګڼل کیږی نوچی علامه دبلوغ سته مثلاً چې حیض یې راغلی وی نودابالغه ده (۳) په دی حالت کی دانجلۍ په اجازه ددی نیکه عمر ددی نکاح کولی سی خوچې عمر شرعی ولی نه دی بلکی شرعی ولی زید دی نوددی وجه څخه چې دعمر مخکنۍ انجلۍ په خوله

---

(۱) وګوری ردالمحتار مع متنه الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۹ – ۴۳۰ ، ط.س. ج۳ ص ۷۸). ظفیر

(۲) فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۲، ط.س. ج۳ ص ۸۱). ظفیر

(۳) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ والجاریة بالاحتلام والحیض والحبل الخ فان لم یوجدفیهما شيء حتی یتیم لکل منهما خمس عشره سنة به یفتی (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الحجر فصل ج۱ ص۱۳۲. ط.س. ج۳ ص ۱۵۳). ظفیر

دخپلې رضامندۍ اقرار ونه کې نوتردغه وخته پورې نکاح به صحیح نه وي چپ کیدل دانجلۍ چې دولي په استیذان کې معتبر اوکافي دي هغه به دلته معتبر نه وي. کذافي الدرالمختار (١). فقط

دنابالغي نکاح دولي په ایجاب او قبول سره کیږي: **سوال:** (٨٧٧) دنابالغو بچیانو نکاح صرف دپلار په ایجاب وقبول سره کیږي اودهر جائز ولي لکه ورور اکا وغیره په ایجاب اوقبول سره هم کیږي اوکه نه؟

جواب: دصغیر اوصغیره نکاح ددوي دهرجائز ولي په ایجاب اوقبول کیږي خو دولي اقرب په وجود کې ولي ابعد ته دنکاح حق حاصل نه دي نوپه دې کې پلار او نیکه او نورو اولیاء په اعتبار ددرجاتو برابر دي. فقط

چې پلار اجازه ورکړي نونیکه (دمور پلار) دلمسۍ نکاح کولې سي: **سوال:** (٨٧٨) یوسړي خپل خسرته استامپ ولیکی اووي ویل چې زما دنابالغي لورنکاح چې زماخسر هرچیري کول غواړي ودې کړي نوکه دمذکوره سړي خسر دخپلې لمسۍ نکاح وکړه بغیر داجازې ددې دپلار څخه صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې دنابالغي دنکاح ولي ددې پلار دی، خوکه پلار دنابالغي نیکه ته اجازه ورکړې اودې ددې نکاح وکړي نودا نکاح صحیح ده (٢).

دشپاړسو کالو انجلۍ نکاح په زبردستي جائزنه ده: **سوال:** (٨٧٩) دشپاړسو کالو انجلۍ نکاح ددې ولي په زبردستي وکړه نوآیا دبالغي نکاح بغیر ددې درضا څخه ولي په زبردستي کولی سي اوکه نه؟

جواب: دبالغي نکاح بغیر ددې درضا او داجازې صحیح نه ده اوهیڅ یوولي ته ددې اختیار نسته چې دبالغي نکاح بغیر ددې درضا څخه وکړي که نکاح وسي اوبالغه راضي نه وي اودې دانکاح جائزه ونه ساتله نودانکاح باطله ده اودبلوغ عمر شرعًا پنځلس کاله دي نو دشپاړسو کالو انجلۍ شرعًا بالغه ده خودولي په پوښتنه اوپه اطلاع باندې سکوت کول دباکرې رضاء او اجازه ګڼل کیږي اوتمکین دوطي وغیره هم فقهاء اجازه ګڼي. الدرالمختار (٣). فقط

---

(١) وان فعل هذه غير ولي يعني استامر غير الولي او ولي غيره اولى منه لم يكن رضا حتى تتكلم به اى لم يكن سكوتها ولا ضحكها رضا (فتح القدير باب في اولياء ج٣ ص ١٢٥. ط.س. ج٣ ص.....). ظفير

(٢) الولي في النكاح لاالمال العصبة بنفسه الخ على ترتيب الارث والحجب الخ فلوزوج الابعد حال قيام الاقرب توقف على اجازته (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الولي ج٢ ص٤٣٢. ط.س. ج٣ ص٧٦). ظفير

(٣) ولا يجبر البالغة البكر على النكاح لانقطاع الولاية بالبلوغ الخ فان استاذنها هواى الولي الخ فسكتت الخ =

چې دچا ولي نه وي دهغه حاکم ولي دي: **سوال**: (۸۸۰) يوه ښځه چې په طور دډمی به يي کسب کوی نوپه دی دوران کی ددی يوه لور پيدا سوه چې دهغې پلار معلوم نه دی وروسته بيادی ښځی خپله نکاح ديو سړی سره وکړه او اته ورځی وروسته مړه سوه دانجلۍ عمر لس کاله دی پلندر دا انجلۍ ديوی ښځی په لاس خرڅول وغوښتل ليکن محلي والاوو دی بند کی، نودی پلندر دمجسټريټ سره مقدمه وکړه حاکم دتحقيق څخه وروسته انجلۍ يو سپين ږيری ته حواله کړه اوحکم يي وکی چې ددی نکاح ديو محتاج سړی سره وکړی نوددی نکاح ديوهلك سره وسوه اوس دانکاح چې دپلندر داجازی څخه بغير وسوه جائزده اوکه نه؟

جواب: پلندر ددی انجلۍ ولي نه دی بلکی دداسی لا وارثو بچيانو ولي حاکم وی نو مذکوره نکاح صحيح ده. (۱) فقط

په دی صورت کی ولي ورور دی دانجلۍ دمور خاوند ولي نه دی: **سوال**: (۸۸۱) زيد دخپل وفات په وخت دخپلی نابالغی لور هاجره ذمه پرذمه دخپلی ميريزی خور فاطمه کړه او هاجره دفاطمی زوی عمر ته کوزده وه اودزيد وصيت وو چې دهاجری نکاح دعمر سره وکړی فاطمی موافق دوصيت هاجره اوددی سکه مور زينب اودهاجری ميريزی ورور بکر خپل کورته راوستل خودهاجره مور زينب چې ځوانه وه ددی وجه څخه فاطمې داپه نکاح ورکړه اودا دخپل خاوند سره ولاړه اودزيد مور چې ژوندی وه او دې دزيد دپلار دمرګ څخه وروسته بل واده ديو سړی سره کړی وو اودخپل خاوند سره اوسيدله بکر هم هلته دخپلی انا سره ولاړی دهاجری مور زينب اوددی ورور بکر چې ترڅو دفاطمی کره وو هم دا به يي ويل چې دهاجری نکاح دعمر سره وکړی خوچې کله فاطمه دهاجری نکاح دعمر سره وکړه نودزينب نوی خاوند يي مخالفت وکی اودې زينب او دبکر انا په خپل خيال کړل نودا نکاح جائز سوه اوکه نه؟

جواب: دزينب نوی خاوند ته دنابالغی هاجری دنکاح ولايت حاصل نه دی نودده په مخالفت هيڅ نه کيږی خو دهاجری ورور بکر ولي دی، فاطمه چې کمه نکاح دهاجری دعمر سره کړيده نودا دبکر پراجازه موقوفه ده که بکر اجازه ورکړی خوصحيح به وی کنې نوباطله به وی (۲) اودزيدوصيت په باره دنکاح کي دوفات دزيدڅخه وروسته شرعًا

= فهو اذن (ايضا ج۲ ص۴۱۰ ، ط.س. ج۳ ص ۵۸). ظفير

(۱) ثم للسلطان ثم لقاض نص له فی منشوره ثم لنوابه (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۰ ، ط.س. ج۳ ص۷۹). ظفير

(۲) فلو زوج الابعد حال قيام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ =

هیڅ اعتبار نه لری. فقط

عاقله بالغه خپله نکاح په کفو کی کولی سی: **سوال:** (۸۸۲\) چی ښځه عاقله بالغه په کفو یا غیر کفو کی خپله نکاح بی درضا دولی وکړی جائزده اوکه نه؟

جواب: اقول قال فی الدرالمختار وهو ای الولی شرط صحة نکاح صغیر ومجنون ورقیق لا مکلفة فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضی ولی الخ والدلیل فیه قوله ﷺ الایم حق بنفسها من ولیها رواه مسلم وغیره ردالمحتار، والایم من لازوج لها بکرًا او لا، شامی جلد ۲، (۱) وتاویل لا نکاح الا بولی او فنکاحها باطل معروف ومذکور فی الفتح والشامی وغیرهما وفی الدرالمختار. دعاقلی بالغی خپله نکاح کول بی درضا دولی جائزده اوپه غیر کفو کی صحیح نه ده وهو المفتٰی به. فقط

داکاپه وجود کی داکا زوی ولی نه دی: **سوال:** (۸۸۳\) ماقول العلماء الشافعیة فی بنت شافعیة المذهب غنیة النفقة وغیرها عمرها ثمان سنین وهی تحت کفالة امها الشافعیة الرشیدة ولها ابن عم شافعی المذهب حاضر اراد ان یتزوجها بغیر رضاها ولا رضا امها لما بینهم من التنافر والعداوة وحیث انه لم یجد الی ذلك سبیل في مذهب الشافعي اراد تقلید الامام الاعظم ابي حنیفة في هذا الامر المخالف لمذهب الشافعي فهل یجوز له ان یزوجها من نفسه تقلیداً اذا فرضنا ان مذهب الامام الاعظم یجیز ذلك بغیر ضرورة الی ذلك الرواج والتقلید ام لا یجوز ؟

جواب: قواعد الحنفیة تقتضی جواز ذالك النکاح ان لم یکن ولی اقرب من ابن عم وان کان اقرب منه مثلا یکون عم الصغیرة موجودا فلا ولایة لابن العم مع وجود العم ، ولا یجوز نکاحه بلا رضا عم وقد وقع التصریح به فی مواضع عدیدة (۲). فقط

بالغه خپله بی له ولی نکاح کولی سی دپلار ناجائزه زوی ولی هم نه دی اوزوی هم نه دی:

سوال: (۸۸۴\) دباکری عاقلی بالغی عقد شرعًا بی له ولی صحیح دی اوکه نه؟ اودپلار ناجائزه زوی یي نکاح کولی سی اوکه نه؟ په نکاح کی خو به څه خرابی نه وی؟ او دپلار ناجائزه زوی چی دباکری بالغی عقد وکړی نوپه دې سره به دی دپلار صحیح النسب زوی سی اوکه نه؟ او دپلار وارث به وی اوکه نه؟

= ص ۴۳۲ ، ط.س. ج۳ ص۸۱). ظفیر

(۱) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۷ – ۴۰۸ ، ط.س. ج۳ ص **۵۵**. ظفیر

(۲) الولی فی النکاح لا المال العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب فیقدم ابن المجنونة (درمختار) ثم یقدم الاب ثم الاخ الشقیق ثم لاب الخ ثم ابن الاخ الشقیق ثم لاب ثم العم الشقیق ثم لاب ثم ابناه کذالك (رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۸ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر

جواب: دباکری بالغی دنکاح دجواز دپاره داحنافو په نزد دولی کیدل شرط نه دی مسنون دی. کذافی الدرالمختار. نودباکری بالغی په اجازه هرسړی ددی نکاح کولی سی ([1]) دپلار ناجائز زوی هم داکار په اجازه دباکری بالغې سره کولی سی او عقد به صحیح وی هیڅ خرابی په دی کی نه وی، اوچی کم دپلار ناجائز زوی دی هغه په اجازه دباکری ددی په نکاح کولو سره دپلار صحیح النسب زوی نه سی کیدی، خوکه په حقیقت کی دی دمخکی څخه دپلاره صحیح النسب ثابت وی نودی دخپل پلار جائز زوی دی او وارث به وی. فقط

<u>دبالغی کونډې په اجازه سره چی کمه نکاح وسوه هغه صحیح ده اوس په انکار سره هیڅ هم نه کیږی</u>: **سوال:** (۸۸۵/۱) کونډی هنده دزید سره دخپل واده کولو اجازه ددوو ښځو اودیو سړی په مخکی خپلی مورته ورکړه ددی عقد دزید سره وسو اوڅوتحفی یي هم استعمال کړی چی دزید دلوري په وخت دعقد ددستور مطابق لیږل سوی وی، دزید کورته دتللو څخه مخکی په لمسولو دمخالفینو دزید هنده وایي چی ما اجازه نه دی ورکړی آیا دهندی انکار صحیح دی اوآیا زید داکور ته په زور راوستلی سی او دښځی والی کارونه ځینی اخیستی سی؟

جواب: په دی صورت کی دهندی نکاح دزید سره منعقده سویده اوس دهندی انکار کول خطا دی نه به اوریدل کیږی اوزید هنده بیولی سی اودښځی والی کارونه هم ځینی اخیستی سی.

<u>پلار خپل زوی ته اجازه ورکړه نودده په اجازه سره نکاح جائز ده</u>: **سوال:** (۸۸۶/۱) دپلار په وجود کی ورور اجازه دنکاح ورکولی سی اونکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: که پلار خپل زوی یعنی دنابالغی ورور ته اجازه ورکړه اواختیار یي ورکی نو دورور په اجازه سره دنابالغی نکاح به صحیح وی کنې نه به وي صحیح. فقط

<u>داصلی ولی داجازی څخه بغیر دنابالغی نکاح صحیح نه ده</u>: **سوال:** (۸۸۷/۱) محمد بخش مړ سو یوه کوچنی لور په عمر دپنځو کالو اویوه ښځه اودوه داکا زامن محمد سعید او محمد صالح یې پرېښوول محمد سعید چی اصلی ولی دی دده زوی بغیر درضا او داجازی دپلاره دنابالغی نکاح وکړه نوچی کله اصلی ولی ته اطلاع وسوه نوده په عام مجلس کی وویل چی دانکاح چی زمازوی کړیده زه په دی راضی نه یم نوشرعًا څه حکم دی؟

([1]) ولا تجبر البالغة البکر في النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ص۴۱۰ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۸). ظفیر

جواب: بغیر داصلی ولی درضا او داجازته دنابالغی نکاح نه سی صحیح کیدی، نودولی زوی چی کمه نکاح دنابالغی په وجود دولی کی بی له اجازی اورضا دولی څخه کړیده او وروسته ددی څخه ولی انکار هم کړیدی اودایي رد کړیده نودانکاح باطله سوه. هکذافی الدرالمختار وغیره. (١) فقط

دبلوغ څخه وروسته دورور کړی نکاح فسخ کولی سی خوقضاء دقاضی ضروری ده: **سوال**: (۸۸۸) دنابالغی نکاح ددی ورور وکړه اوانجلۍ دکوچنی والی څخه په دی نکاح راضی نه وه دبالغیدو څخه وروسته یي هم ناراضګی ښکاره کړه آیا اختیار دفسخ دنکاح دانجلۍ دپاره باقی دی اوکه نه؟

جواب: انجلۍ ته په دی صورت کی دبالغیدو څخه وروسته اختیار دفسخ دنکاح سته خو دفسخی دپاره قضاء دقاضی شرط ده. اوکه قاضی نه وی نونکاح به فسخ نه وی په دی صورت کی دبالغی دخاوند په طلاق ورکولو سره نکاح فسخ کیدی (٢) سی. فقط

نژدی ددوو سوو میلو په فاصله وی اومور نکاح وکړی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۸۸۹) عبدالله یوه نابالغه لور اویوه ښځه پریښوولیه اومړسو دمړی زوی یا ورور نسته داکا زوی یي دی نابالغه لور دخپل ترور (عمه) سره په پالنه کی ده چی دمړی داکا دزامنو څخه ددوو سوو میلو په فاصله ده او دنابالغی لور مور دپنځوسو میلو په فاصله ده اومړی دمرګ څخه شپږ میاشتی مخکی نابالغه لور دخپلی سکه خور زوی ته کوزده کړی وه نوکه دنابالغ مور دمړ خاوند دوعدی مطابق ددی دخوریي سره ددری ورځو په فاصله ولاړه سی او نکاح وکړی نوجائز ده اوکه نه؟ ځکه چی دمړی دخوریي سره نکاح په کفوکی نکاح ده.

جواب: په غیبت کی چی په هغه کی ولی ابعد ته دنکاح اختیار ورکول کیږی نودوه قوله دی یومسافت دقصر، اودوهم چی داقرب په انتظار کی کفو فوت کیږی او محقیقینو هم دې ته راجح ویلی دی: اختلف في حد الغيبة فاختار المصنف تبعا للكنز أنها مسافة القصر ونسبه في الهداية لبعض المتأخرين والزيلعي لأكثرهم قال وعليه الفتوى اهـ وقال في الذخيرة الأصح أنه إذا كان في موضع لو انتظر حضوره أو استطلاع رأيه فات الكفو الذي حضر فالغيبة منقطعة وإليه أشار في الكتاب اهـ وفي البحر عن المجتبى والمبسوط أنه الأصح وفي النهاية واختاره أكثر المشايخ وصححه ابن الفضل وفي

---

(١) فلو زوج الولی الابعد حال قیام الارب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۲. ط.س. ج۳ ص ۸۱). ظفیر

(٢) وان کان الزوج غیرهما ای غیر الاب وابیه الخ لهما خیار الفسخ بالبلوغ الخ بشرط القضاء للفسخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۹. ط.س. ج۳ ص ۲۸). ظفیر

الهداية أنه أقرب إلى الفقه وفي الفتح أنه الأشبه بالفقه وأنه لا تعارض بين أكثر المتأخرين وأكثر المشايخ أي لأن المراد من المشايخ المتقدمون وفي شرح الملتقى عن الحقائق أنه أصح الأقاويل وعليه الفتوى اهـ وعليه مشى في الاختيار والنقاية ويشير كلام النهر إلى اختياره وفي البحر والأحسن الإفتاء بما عليه أكثر المشايخ (۱).

ددی عبارت څخه داواضحه ده چی راجح عند المحققین قول ثانی یعنی فوت دکفودی نو نابالغی ته دی ولاړ سی یا دی دا راوغواړی او نکاح دی په کفو کی وکړی نودابه صحیح وی. فقط

ترور (عمه) نکاح وکړه اوولی ردکړه نونکاح ونه سوه: **سوال:** (۸۹۰) دیوې یتیمی انجلۍ ځلور کسان اولیاء دی په دې ترتیب سره دپلار میریزي اکا، سکه نیکه (دمور پلار) سکه ترور (عمه) نوترور دخپل زوی سره سره په خپل اجازه دیتیمی نکاح وکړه دری واړو ولیانو چی واوریده نودا یې ردکړه نوعند الشرع نکاح فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: دفقه په کتابونو کی دی چی: الولی فی النکاح العصبة (۲). الخ نوپه صورت مذکوره کی دنابالغی یتیمی دنکاح ولی ددی دپلار میریزی اکا دی نوکله چی مذکوره نکاح ده ردکړه نودا نکاح فسخ سوه (۳).

دمور په میریزی پلار اوماما کی کم یوولی دی؟ **سوال:** (۸۹۱) دیوی انجلۍ مور ژوندی ده اوپلار نیکه وغیره یې مړه دی میریزی پلار او ماما یې موجوددی نوپه دې دری واړو کی دانجلۍ ولی څوك دی انجلۍ بالغه ده ولایت دنکاح دچادی؟

جواب: دعصباتو څخه وروسته مور دنابالغی دنکاح ولی کیږی (۴) خوپه صورت مذکوره کی چی انجلۍ بالغه ده نوددی مور ددی په اجازه سره ددی نکاح کولی سی او دانجلۍ چپ کیدل دمور داجازی دپاره کافی دی سکوت هم اجازه ګڼل کیږی (۵). فقط

داتلسو کالو انجلۍ خپله نکاح په خپله کولی سی: **سوال:** (۸۹۲) یوه انجلۍ ده چی دهغه

(۱) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۳، ط.س. ج۳ ص ۸۱. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۷، ط.س. ج۲ ص ۷۲. ظفیر

(۳) فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (درمختار ج۳ ص ۸۱) فلم یجعلوا سکوته اجازة والظاهر ان سکوته هنا کذالك فلا یکون سکوته اجازة لنکاح الابعد وان کان حاضرا فی مجلس العقد ما لم یرض صریحا او دلالة (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۲، ط.س. ج۳ ص ۸۱). ظفیر

(۴) فان لم یکن عصبة فالولایة للام (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۹، ط.س. ج۳ ص ۷۸). ظفیر

(۵) لاتجبر البالغة البکر علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ فان استاذنها هو ای الولی وهو السنة الخ فسکتت عن رده مختارة الخ فهواذن (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۱۰، ط.س. ج۳ ص ۵۸). ظفیر

عمر تقریبا اتلس کاله دی، ددی پلار ددی دنکاح کولو څخه بالکل بی فکره دی دبد معاشی کسب کوی اوپه بدو اعمالو کی ملوث دی شرابی دی په داسی حالت کی انجلۍ ته په خپله اجازه سره دنکاح اختیار حاصل دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی: وهی ای الولی شرط صحة نکاح صغیر ومجنون ورقیق لا مکلفة فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضی ولی الخ الی ان قال ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلاً وهو المختار الخ (١). نومعلومه سوه چی انجلۍ بالغه په کفوکی خپله نکاح په خپلی رضامندی سره وکړی نوصحیح ده. فقط

په ماما، انا اومور کی ولایت چاته حاصل دی؟ سوال: (٨٩٣/١) هنده او زبیده دواړه سکه خوندی دی دهندی یوزوی خالد اودزبیده لور عائشه ده اودعائشه لورساجده ده دزبیدی اودعائشی خاوندان مړه سوه. زبیده په خپل ولایت ساجده نابالغه په عمر دنهو کالو په خپل ولایت سره دهندی زوی یعنی خالد ته په نکاح کړه حال دادی چی دعائشی دری سکه ورونه چی دنابالغی ماماګان دی موجودوو آیا دانکاح شرعًا جائزده آیا دسکه ماما په وجود کی انا دنکاح ولایت کولی سی اوکه نه؟ اوس ساجده بالغه سوه نوآیا دا دنکاح فسخ دخالد سره کولی سی اوکه نه؟ یا تجدید دنکاح وسی؟

جواب: دانا ولایت دماما څخه مقدم دی نوچی کله دنابالغ څوك عصبه نه وی نوولایت دنکاح مورته دی اوبیا انا (دپلار مور) ته اوبیا انا (دمور مور) ته اوماما په ذوی الارحامو کی دی اوپه وجود دذوی الفروضو کی ده ته ولایت دنکاح دنابالغی نسته (٢) نوپه صورت مذکوره کی عائشه هم په دی نکاح راضی سوه نودا نکاح به منعقده سی اوساجده دبالغیدو څخه وروسته خپله نکاح په خپله نه سی فسخ کولی، بلکی دفسخ دپاره دقاضی قضاء شرط ده (٣)، اوشرعی قاضی نسته (٤) اودنورو شرائطو تحقیق هم سخت دی ددی وجه څخه دنکاح دفسخ حکم اوس نه سی کیدی. فقط

دمرتد پلار په نابالغ زوی او لور باندی هیڅ حق دولایت نسته: **سوال**: (٨٩٤/١) ١. یو مسلمان

---

(١) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج٢ ص ٤٠٨ ، ط.س. ج٣ ص **٥٥**. ظفیر

(٢) الولی فی النکاح لا فی المال العصبة بنفسه الخ بترتیب الارث والحجب الخ فان لم یکن عصبة فالولایة للام ثم لام الاب الخ ثم للجد الفاسد الخ ثم لذوی الارحام العمات ثم الاحوال ثم الخالات (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج٢ ص ٤٢٧. ط.س. ج٣ ص ٧٢). ظفیر

(٣) بشرط القضاء للفسخ (درمختار ط.س. ج٣ ص٧٠) وحاصله انه اذا کان المزوج للصغیر والصغیرة غیر الاب والجد فلهما الخیار بالبلوغ او العلم به فان اختار الفسخ لا یثبت الفسخ الا بشرط القضاء (ردالمحتار باب الولی ج٢ ص ٤٢١ ، ط.س. ج٣ ص ٧٠). ظفیر

(٤) علماؤ چي ددی دپاره کم حل غوره کړیدی دهغه دپاره وګوری: الحیلة الناجزة للمرشد التهانوی. ظفیر

سړی آریه سو دده یوه لورده دلسو کالو دعمر اوزوی دی په عمر داتو کالو انجلۍ دخپلی مورسره دنیکه (دمور دپلار) کره اوسی اونیکه (دپلار پلار) یې هم سته آیا دپلار څه حق داولاد په باره کی سته اودانجلۍ نکاح به دمور پلار په اجازه وی اوکه دپلار دپلار په اجازه؟

<u>مرتد مسلمان سو نوهغه دخپلی ښځی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟</u> ۲. که پلار بیا مسلمان سی اوتوبه وکاږی نو دخپلی مخکی ښځی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ اوپه اولاد قابض کیدی سی اوکه نه؟

جواب: (۱) چی پلار مرتد سو نودده هیڅ حق اوتعلق داولاد سره پاته نه سو دنابالغه ماشومانو ولی په دی صورت کی ددوی دپلار پلار دی اودده په اجازه ددوی نکاح صحیح کیدی سی دمور دپلار په اجازه سره نه سی کیدی. ([1])

(۲) که پلار مسلمان سی اوتوبه وکاږی نودی دخپلی پخوانی ښځی سره نکاح کولی سی اوپه اولاد به یې هم حق او ولایت ثابت سی ([2]). فقط

<u>په وخت دنکاح دورور جوړولو رواج غلط دی</u>: **سوال**: (۸۹۵) دلته دکابل او پیښور په بعضو منطقوکی دا دستور دی چی مور او پلار موجود وی اوکه نه وي دنکاح په وخت پردی سړی ورور جوړ کړی بغیر دده څخه نکاح نه کوی اوزموږ دهند دا دستور دی چی مور اوپلار خپله اجازه ورکړی او یا انجلۍ په خپله هوښیاره سی اواجازه ورکړی، آیا دا دواړی خبری صحیح دی اوکه څه فرق سته؟

جواب: کم چی زموږ دملك رواج دی چی دنابالغی دپاره ددی اولیاء یعنی پلار نیکه وغیره اجازه ورکوی اوچی کمه انجلۍ بالغه وی نوخپله دیته واورول سی چی ستا نکاح دفلانی سړی سره کیږی په دی باندی داسکوت کوی اودا سکوت اجازه ده شرعًا هم دا صحیح ده او همداسی کیدل په کار دی ([3]) دورور جوړولو صورت فضول دی او ددی څه

([1]) الولی فی النکاح لا المال العصبة بنفسه علی ترتیب الارث والحجب فیقدم ابن المجنونة علی ابیها (در مختار) هذا عندهما خلافا لمحمد حیث قدم الاب الخ ثم یقدم الاب ثم ابوه الخ (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۷ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر

([2]) ددې وجه چې په مرتد کیدلو سره ددین څخه داسلام خارج سو او دټولو حقوقو څخه محروم سو بیا چې کله مسلمان سو نوبیا ورلره دپلار حقوق حاصل سوه او دواده کولو حق هم ورته حاصل سو ددې وجه چې فقهاء صراحت کوي: وبقی النکاح ان ارتدا معاً بان لم یعلم السبق الخ فاسلما کذلك (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۴۱، ط.س. ج۳ ص۱۹۵ - ۱۹۶). ظفیر

([3]) لاتجبر البالغة البکر علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ فان استاذنها هو ای الولی وهو السنة او وکیله او رسوله او زوجها ولیها واخبرها رسوله اوفضولی عدل فسکت عن رده مختارة الخ فهو اذن (الدرالمختار علی =

اصل نه معلومیږی. فقط

مور نکاح وتړله او ورور خاموش پاته سو نوځه حکم دی؟ سوال: (۸۹۶) دولی اقرب یعنی دورور په وجود کی ولی ابعد یعنی مور دنابالغی نکاح وکړه اواقرب سکوت وکی خوځه علامه درضا ښکاره نه سوه نه صراحةً اونه دلالةً نودا نکاح فاسده ده اوکه باطل؟

جواب: فی الشامی علی قوله: توقف علی اجازته الخ والظاهر أن سکوته هذا کذلك فلا یکون سکوته إجازة لنکاح الأبعد وإن کان حاضرا في مجلس العقد ما لم یرض صریحا أو دلالة تأمل (۱) نوچی ترڅو ولی اقرب راضی نه وی صراحةً یا دلالة ترهغه به دانکاح موقوفه وی نه به صحیح وی اونه به باطله وی. فقط

دځوارلسو کالو انجلۍ چی خپل ځان بالغ ښیي دی دنیکه (پلار دپلار) نکاح ردکړه: سوال: (۸۹۷) نیکه دخپلی لمسۍ څوارلس کلنی نکاح دخپل لمسی سره وکړه په وخت دنکاح دا انجلۍ په بل ښار کی وه ددی وجه څخه نیکه دنکاح اجازه ځینی وانه خیسته اونه یي داپوښتنه ځینی وکړه چی ته بالغه یي اوکه نه؟ انجلۍ ته چی خبر ورکول سو نو هغې وویل مورته دانکاح نه ده منظوره، زه دنکاح په وخت بالغه وم ماته دمدې راهیسی حیض راځی، اودلته دوه معتبر شاهدان هم موجود وه او وایې چي موږ انکار هم واوریدی اوپه کتلو باندې هم داسي معلومیده چي دزمانی راهیسی بالغه ده او رښتیا وایي، په داسی عمر کی دعوه دبلوغ چی خلاف دظاهر څخه نه وه لکه چی دمعتبرو شاهدانو څخه معلومیږی صحیح ده اوکه نه؟ او وروسته دبلوغ دثبوت څخه انکار صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دمراهقی قول په باره دبلوغ کی معتبر اومصدق دی اودانجلۍ چی ددی عمر څوارلس کاله دی یقینی مراهقه ده په درمختار کی دی: فان راهقا بان بلغا هذا السن فقالا بلغنا صدقا ان لم یکذبهما الظاهر (۲) الخ وقال قبیله وادنی مدته له اثنتی عشرة سنة ولها تسع سنین الخ (۳). اودبالغ نکاح بغیر ددی داجازته صحیح اومعتبره نه ده نو ددی وجه څخه مذکوره نکاح صحیح نه سوه (۴). فقط

دقریب ولی چی نکاح نه کوی نو دلری ولی نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۸۹۸) هنده دخپل نابالغه زوی دبکرنکاح دنابالغه حمیده سره کول غواړی خودبکرنیکه (دپلار پلار)

= هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۰ ۴۱۱ ، ط.س. ج۳ ص ۵۸). ظفیر

(۱) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۲ – ۴۳۳ ، ط.س. ج۳ ص ۸۱. ظفیر

(۲) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار کتاب الحجر فصل بلوغ الغلام ج۵ ص ۱۳۲. ط.س. ج۳ ص ۱۵۴. ظفیر

(۳) ایضا ج۵ ص ۱۳۳. ط.س. ج۳ ص ۱۵۴. ظفیر

(۴) لایجوز نکاح احد علی بالغة صحیحة العقل من اب وسلطان بغیر اذنها بکراً کانت اوثیبًا (عالمگیری کشوری باب الاولیاء ج۲ ص ۲۹۵). ظفیر

دخپل لمسی څخه خفه دی اودخپل زوی دمرګ څخه وروسته یې دی اودده مور دخپل کوره ایستلی دی هم ددی وجه څخه دی دبکر دنکاح داجازی ورکولو څخه انکاری دی اوسکه اکا دبکر دنکاح اجازه ورکولو ته تیار دی دارکم دحمیده ولی سکه اکا اوددی خاله (ترور) موجود ده خودده دحمیده دپلار سره خفګان وو، په دی وجه دی دحمیده دنکاح اجازه نه ورکوی په دی صورت کی دبکر سکه اکا ددوی دنکاح ولی کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی که ولی اقرب دصغیر په کفو کی دنکاح کولو څخه مانع وی نوولی ابعد ته اختیار دنکاح حاصلیږی: ویثبت للابعد من اولیاء النسب ﷺ التزویج بفضل لاقرب ای بامتناعه عن التزویج ([1]) الخ. بناء په دی باندی دنابالغه بکر نکاح دده اکا کولی سی که دحمیدی سکه تره دنکاح څخه مانع وی نودده څخه وروسته حسب ترتیب دولایت چی کم ولی وی هغه دحمیدی نابالغه نکاح کولی سی اوترتیب دادی چی دعصباتو څخه وروسته مور ولی ده ددی څخه وروسته انا (دمور مور یا دپلار مور) خور وغیره ولی دی که په دوی کی څوك نه وی او دلمسی څخه څوك مخکی په عصبات او ذوی الفروض کی نه وی نوخاله (ترور) نکاح کولی سی ([2]). فقط

<u>**وصیت ته څه اعتبار نسته او داکا دزوی په وجود کی مور ولی نه ده**</u>: **سوال**: (۸۹۹۱) زید په خپل مرض موت کی خپلی ښځی ته وویل زما دلور هنده چی صغیره ده نکاح دبکر سره وکړه ولي چی دهغه سره ما ددی څخه مخکی دصغیره مذکوری کوزده کړیده بیازید عمر اوخالد ته وویل چی که زما ښځی زما دصغیره لور نکاح دبکر سره ونه کړه نوته یې وکړه زه تاته اجازه درکوم دزید دمرګ څخه وروسته دزید ښځی دصغیری نکاح دبکر سره وکړه ددی نکاح دکیدو څخه اوس دزید وراره دصغیری مذکوری نکاح په ولایت دخپل ځان سره وکړه دا وراره دزید بالغ دی ماسوا دزید بل خاندانی قریب نسته دزید ښځه دصغیری مور ده شرعا مخکی نکاح جائزده اوکه دوهمه؟

جواب: دزید وصیت ته خوپه دې باره کی څه اعتبار نسته اودزید دمرګ څخه وروسته ولایت دنکاح دبالغه هندې دزید وراره ته دی نوچی دهندی مور کمه نکاح وتړله هغه

([1]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۳ – ۴۳۴ . ط.س. ج۳ ص ۸۲. ظفیر

([2]) اقرب الاولیاء الی المرأة الابن ثم ابن وان مبخل ثم الاب ثم الجد وابو الاب الخ ثم الاخ ثم ابن الاخ الخ ثم العم الخ ثم ابن العم الخ ثم عم الاب الخ ثم بنوهما الخ وعند عدم العصبة کل قریب یرث الصغیر والصغیرة من ذوي الأرحام یملك تزویجهما الخ والأقرب عند أبي حنیفة رحمه الله تعالی الأم ثم البنت الخ ثم الاخت الخ ثم اولادهم الخ وبعد أولاد الأخوات العمات ثم الأخوال ثم الخالات ثم بنات الأعمام الخ (عالمګیری کشوری باب الاولیاء ج۱ ص ۲۹۱ ، ط. ماجدیه ج۳ ص ۲۸۳). ظفیر

موقوفه پراجازه دوراره ده که ده دغه نکاح موقوفه او باطله کړه اوخپله نکاح يي ددغه نابالغی سره وکړه نو دوراره نکاح صحیح سوه اومخکنی نکاح چی مور کړی وه باطله سوه، قال فی الدرالمختار: الولی فی النکاح العصبة الخ (۱). فقط

<u>دولی سکوت اجازه ده اوکه نه؟ چی غیر دولی څخه نکاح وکړي</u>: سوال: (۹۰۰) دنابالغی هندی سکه ورور خالد بالغ په کورکی نه وو په وجه دملازمت دیوی ورځی په مزل وو دخالد په عدم وجود کی دده سکه مور اوپلندر دنابالغه هنده نکاح وکړه دنکاح څخه وروسته خالد کورته راغی دنکاح خبر يي واوریدی اوخاموش سو دنکاح تقریبًا دوه کاله سویدی په مینځ کی څو واره خالد کورته راغی او ولاړی هرځای يي ماسوا دسکوت څخه انکار نه دی کړی اوس تقریبًا ددوو کالو څخه وروسته وایي چی موږ نه یو راضی په داسی حالت کی دهندی نابالغی نکاح جائز ده اوکه ورور يي په بل ځای کی نکاح کولی سی؟

جواب: دولی سکوت په دی صورت کی اجازه نه ده. کمافی الدرالمختار: فلو زوج الأبعد حال قیام الأقرب توقف علی إجازته، وفي الشامي: فلم يجعلوا سکوته إجازة والظاهر أن سکوته هنا کذلك فلا يکون سکوته إجازة لنکاح الأبعد وإن کان حاضرا في مجلس العقد ما لم يرض صریحا أو دلالة تأمل (۲) الخ. نومعلومه سوه چی په دی صورت کی دمور نکاح نه ده صحیح ورور يې په بل ځای کی نکاح کولی سی. فقط

<u>مور نکاح وتړله جاهل پلار ولیکل چی ماته خوښه نه ده څه حکم دی؟</u> سوال: (۹۰۱) دیوبی تعلیمه سړی زید دنابالغی لور عقد دانجلۍ مور اوماما په کفوکی داسی ځای چی دهغه څخه بل ښه ممکن نه وو، وکړی، اوداعقد په داسی حالت کی وسو چی زید یعنی دنابالغه پلار ډیر لیری وو اوهلك والا دومره مهلت نه ورکوی چی دنابالغه مور دخپل خاوند زید څخه دخط په ذریعه منظوری را وغواړی دڅو ورځی څخه وروسته دزید یو خط ددی مضمون راغی چی ده ته دانکاح خوښۀ نه ده نوپه دی خط سره به دانکاح فسخ سی اوکه نه؟ او دبی تعلیمه سړی خط چی دډاك په ذریعه راغلی دی په فسخ کی دنکاح معتبر دی اوکه نه؟

جواب: په داسی حالت کی چی پلار لیری وی او ولی ابعد په کفو کی دنابالغه نکاح وکړی نونکاح صحیح کیږی اوبیا ولی اقرب دانه سی فسخ کولی. قال فی الردالمحتار

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۰ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲. ظفیر
(۲) وګوری ردالمحتار باب الولی ص ۴۳۲ – ۴۳۳ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۸۱. ظفیر

ولا يبطل تزويجه السابق بعود الاقرب لحصوله بولاية التامة ([1]) الخ. اودمور ولایت دعصباتو څخه وروسته دی نوکه څوك عصبه نه وی موجود اوپلار لیری وی نو دمور سوی نکاح صحیح ده اودپلار په دی لیکلو سره چی ماته دانکاح خوښه نه ده دانکاح به فسخ نه وی اوخط که څه هم په داسی امورو کی معتبر کیږی خوپه دی موقع په تحریر سره نکاح به فسخ نه وی‌لکه چی دپلارپه زبانی‌ویلوسره مذکوره نکاح نه فسخ کیږی. ([2])

<u>په صورت مسئوله کی دنیکه (دپلار پلار) ورور ولی دی</u>: سوال: (۹۰۲/۱) دهندی پلار اونیکه مړه سوه خو دنیکه ورور یې ژوندی دی، دهندی انا (دپلار مور) دنیکه دورور په عدم موجودګی خو دنیکه دورور زوی یې وو دده په وجود کی دهندی نکاح وکړه نودا نکاح جائزده اوکه نه؟ نابالغه هنده مړه سوه خاوند ته نه ده ورغلی پوره مهر به ور کول کیږی اوکه کم اوکه هیڅ هم نه؟

جواب: دنابالغه هندی دنکاح ولي په دی صورت کی دنیکه ورور دی اوکه دنیکه ورور لیری وو دده څخه اجازه اخیستل ګران وو نو دده دزوی په ولایت اوپه اجازه نکاح کیدی سی. ([3]) او دنابالغه ښځی په وفات سره دخاوند پرذمه پوره مهر لازمیږی ([4]) نیم په دی کی دخاوند حق دی هغه به دده څخه ساقط سی، اوباقی نورنیم به په نورو وارثانو تقسیم سی. ([5])

<u>دنیکه په وجود کی مور نکاح وکړی نو باید څه وسی؟</u> سوال: (۹۰۳/۱) دزید دوه زامن حامد اومحمود وو، دحامد انتقال دزید په ژوندکی وسو، دحامد یوه لور اویوه ښځه پاته سوه دحامد کونډه نابالغه لور یوبل ځای ته بوتله اودیو غیر سړی سره بی درضامندی دزید اودمحمود څخه دزید کونډی هندی ددی نکاح وکړه دڅوورځو څخه وروسته چی انجلۍ نابالغی ته هوش راغی، نوداپه داسی نکاح نارضا ده، نوداسی نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دنابالغی ولی ددی نیکه زید دی بغیر داجازی دزید څخه به دنابالغی نکاح صحیح نه وی نوکونډی دحامد چی کمه نکاح دخپلی نابالغی لور کړیده

([1]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۴ ، ط.س. ج۳ ص ۸۳. ظفیر
([2]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۴ ، ط.س. ج۳ ص ۸۳. ظفیر
([3]) الولی فی النکاح العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب الخ وللولی الابعد التزویج بغیبة الاقرب الخ مسافة القصر واختاره فی الملتقی مالم ینتظر الکفو والخاطب جوابه الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۷ - ۴۳۲ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر
([4]) والمهر یتأکد باحد معان ثلاثة الدخول والخلوة الصحیحة وموت احد الزوجین الخ حتی لا یسقط منه شيء بعد ذالك الا بالابراء (عالمګیری مصری الباب السابع فی المهر فصل ثانی ج۲ ص ۲۸۴). ظفیر
([5]) واما للزوج فحالتان النصف عندعدم الولد وولد الابن وان سفل (سراجی ص۷، ردالمحتار ط.س. ج۳ ص۸۱). ظ

نو هغه دزيد پراجازه موقوفه ده، که زيد اجازه ورکړه صحيح کنې باطله ده ([1])، اوترتيب دولايت دنکاح په دی صورت کی داسی دی چی زيد ولی دی دده دغائبيدو په صورت کی محمود ولی دی بيا چی څوك عصبه نه وی نو ددی نابالغی مور يعنی دحامد کونډه ولی ([2]) ده، نوکه کونډی دحامدخپله لوردومره ليری بيولی وی چی زيد اومحمود دهغه ځای څخه په مسافت شرعيه يعنی ددرو ورځو په سفر وی اوپه دوهم قول چی معتمد او مفتٰی به دی چی دومره ليری وی چی کفو خاطب دزيد او دمحمود دجواب انتظار نه سی کولی نوهلته ولاړه اوکونډی دحامد ددی انجلۍ نکاح په کفوکی وکړه نوصحيح به وی. کما فی الدرالمختار وللولی الابعد التزويج بغيبة الاقرب الخ مسافة القصر واختار فی الملتقٰی ما لم ينتظر الکفو الخاطب جوابه واعتمده الباقانی ونقل ابن الکمال ان عليه الفتویٰ الخ ([3]). فقط

دليونۍ هنده ولی څوک دی او ددی جهيز دچا ملکيت دی؟ سوال: (۹۰۴) دزيد ښځه هنده ليونۍ سوه ددی يوه لورده چی هغه دزيد مور وپالل او دخپل ځان سره يي ساتی زيد دخپلی ليونی ښځی اودلور داخراجاتو ذمه داردی په دی کی هيڅ کمی نه کوی هنده اکثره دزيد سره اوسيږی اوکله کله دمور کره ځی دزيد اراده ددوهمی نکاح کولوده چی دکله څخه يي دا اراده ښکاره کړيده دهندی مور دا دزيد کره نه راپريږدی دهندی وروڼه او خوندی اومور چی دده ددوهم واده کولو واوريدل نودوی مطالبه کوی چی هنده ته مو کم جهيز ورکړيدی هغه دی بيرته ورکول سی ځکه چی ددوی خيال دی چی ددوهمی نکاح څخه وروسته به زيد دهندی حق پوره نه ادا کوی په جهيز کی دکور سامان وو، او زر اوجامی وی نقد ياجائيداد نه وو دکور په سامان کی بعضی شيان بالکل ضائع سوی دی اوبعضی ناقابل استعمال دی اوبعضی په ښه حالت کی دی دجامو زياته برخه استعمال سويده زر بعضي په خپل حالت کي موجود دي بعضی هنده دليونتوب څخه مخکی مات کړی اوڅه نور زر يي ترې جوړ کړي وه خلاصه داچی په نورو کورونو کی چي دجهيز کم حالت کيږی هم هغه حال دلته هم دی، په دی حالت کی دلاندينيو سوالونو جوابونه راکړی:

۱. دهندی ولی ددی دليونتوب په وخت څوك دی ددی اوسيدل دچاسره په کاردی؟

۲. دهندی مور او وروڼه اوخور چی دجهيز مطالبه کوی په حق دی اوکه نه؟

([1]) فلو زوج الابعد حال قيام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۰).

([2]) فان لم يکن عصبة فالولاية للام (ايضاً ج۲ ص ۴۲۹ ، ط.س. ج۳ ص۷۸). ظفير

([3]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۲ – ۴۳۳ ، ط.س. ج۳ص ۸۱. ظفير

۳. جهيز دچا ملکيت دی، دهندی اوکه ددی دمور وغيره؟

۴. که دهندی مور وغيره دجهيز مطالبه کولی سی نوچی څه شيان موجود دی نوهغه ورکول په پکاردی اوکه ددی دټول مال قيمت به ورکوی چی کم په وخت دنکاح هندی ته ورکول سوی وو؟

جواب: ۱. دليونی دنکاح وکيل عصبات دی په ترتيب باندی او دليونی دمال ولی خاص پلار نيکه وغيره دی مور خور ورور وغيره ته دمجنون دمال ولايت نسته ([1]) اودا هم مسئله ده چی دليونتوب دوجه نکاح نه فسخ کيږی ددی وجه څخه دا ليونی به دخاوند سره اوسيږی چی کله ددی حق تلفی وسی نودغه وخت ددی دحقوقو پوره کولو کوشش کول په کاردی ([2]) اوکه دخاوند سره اوسيدل يې سخت وی نو بيادی يې دخپل ځان سره وساتی دغه وخت که ددی دجهيزڅه سامان هم موجودوی دخپل ځان سره يې ساتلی سی.

۲و۳. جهيز دښځی ملکيت دی نه دخاوند اونه دمور وغيره چی کم ځای ښځه وی هلته دمملوکه سامان حق دغه خلگو ته دی چی دچاسره دا اوسی، که دخاوند سره اوسی نو ددی سامان به هلته وی، اوکه دمور سره اوسی نودلته به وی، وروسته که هنده ددی مور وغيره دليونتوب په سبب دځان سره ساتی نو ددی موجوده جهيز هم دلته په حفاظت ساتلی سی ([3]). فقط

۴. دليونی هنده مور وغيره که دادځان سره ساتی نوددی هغه شيان اخيستی سی چی کم موجود دی دضائع سوو قيمت دخاوند دهندی څخه نه سی اخيستی. فقط

قريب ولی چی يې کله په نکاح نه ورکوی نومور چی بعيده ده په نکاح يې ورکولی سی اوکه نه؟

سوال: (۹۰۵) يوه انجلۍ يتيمه چی ولی يې دمور او دميريزی ورور څخه ماسوا بل څوك نسته اوس زيد چی ديتيمی انجلۍ کفو دی په عوض دمقرر مهر (مهرِ بمثل) دنکاح درخواست کړی دی ميريزی ورور دمذکوري يتيمی دنکاح څخه مانع دی، په دی صورت کی مورته ولايت اواختيار دنابالغی دنکاح سته اوکه نه؟

جواب: په صورت دامتناع دولی اقرب دتزويج بالکفوڅخه ولی ابعدته چی په دی صورت کی مور ده ولايت اواختيار دنکاح ديتيمی حاصل دی که څه هم دفقهاؤ په دی کی کلام

([1]) الولى فى النكاح لا المال العصبة بنفسه الخ (درمختار ج۳ ص۷۲) قوله لا المال فان الولى فيه الاب ووصيا والجد ووصيه والقاضى ونائبه فقط الخ (ردالمحتار باب الولى ج۲ ص ۴۲۷ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفير

([2]) ولا يتخير احدالزوجين بعيب الاخر ولوفاحشا كجنون وجذام وبرص الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العنين وغيره ج۲ ص۸۲۲ ، ط.س. ج۳ ص۵۰۱). ظفير

([3]) جهز ابنته بجهاز وسلمها ذلك ليس له لا استراد عنها ولا لورثة بعده ان سلمها ذالك فى صحة تختص به وبه يفتى (ايضا باب المهر ج۲ ص۵۰۳ درالمختار على ردالمحتار ط.س. ج۳ ص ۱۵۵). ظفير

سته چې دولی اقرب دامتناع په وخت ولایت قاضی ته منتقل کیږی یاولی ابعد من اولیاء النسب ته خوچې کله فتوىٰ دفقهاؤ پردی سته چې ولایت ولی ابعد من اولیاء النسب ته منتقل کیږی بالخصوص په دی زمانه کی په دی فتوىٰ ورکول صحیح دی. قال فی الدرالمختار ویثبت للابعد من اولیاء النسب الخ التزویج بفضل (۱) الاقرب الخ. فقط

دپلار میریزی اکا ولی دی دده په وجود کی خور اوترور (عمه) ولی نه دی: سوال: (۹۰۶/۱) یوه نابالغه یتیمه ده ددی ولی دپلار میریزی اکا دی اوددی سکه خور اوسکه ترور هم سته اوس زید چې ددی یتیمی هم ځنګ (کفو) دی په عوض دمهر مثل ددی سره نکاح کول غواړی میریزي اکا اوخور انکار کوی په دی صورت کی حق دتزویج ترورته هم حاصل دی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار الولی فی النکاح الخ العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب (۲) الخ. ددی عبارت څخه واضحه ده چې په دی صورت کی ددی نابالغی ولی ددی دپلار میریزی اکا دی اودخور درجه هم دده څخه وروسته ده اوترور خو په هیڅ صورت کی دده په وجود کی ولی نه سی کیدی اوپه درمختار کی چې دولی اقرب په صورت کی ولی ابعدته ولایت دنکاح دشرح وهبانیه څخه نقل کړیدی علامه شامی ددی خلاف ته موجه ویلی دی چې دولی اقرب دعضل په صورت کی ولی ابعد ته ولایت دنکاح نسته بلکی قاضی ته دی (۳). فلیراجع

وراره اومور دنکاح ولی دی دمال نه دی: سوال: (۹۰۷/۱) دنابالغه دمال ولی وراره دی اوکه مور؟

جواب: دمتوفی وراره دنابالغی دنکاح ولی دی ددی دمال ولی نه دی اونه یې مور ولی ده دنابالغه حصه حاکم چې یې دچاسره مناسبه وګنی امانت به یې وساتی یا چې کمه طریقه دده دمال دحفاظت وی هغه طریقه دی اختیار سی (۴). فقط

دښې رشتې په امید باندې که ولی ایسار سی نو څه حکم دی؟ سوال: (۹۰۸/۱) هم کفو چې

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ص ۴۳۳ – ۴۳۴ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۸۲. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۷ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲. ظفیر

(۳) ویثبت الابعد من اولیاء النسب شرح وهبانیة لکن فی القهستانی عن الغیاثی ولو لم یزوج الاقرب زوج القاضی عند فوت الکفو التزویج بعضل الاقرب (درمختار ط.س. ج۳ ص ۸۲) ذکرفی انفع الوسائل عن المنتقی اذا کان للصغیرة اب امتنع عن تزویجها لا تنتقل الولایة الی الجد بل یزوجها القاضی ونقل مثله ابن الشحنة الخ (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۳ ، ط.س. ج۳ ص ۸۲). ظفیر

(۴) الولی فی النکاح لا المال (درمختار) قوله لا المال فان الولی فیه الاب ووصیة والجد وصیه والقاضی ونائبه فقط (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۷ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر

کله په مهر مثل باندی پیغام ورکړی نوآیا په ولی اقرب باندی اقرار ضروری دی اوکه یې نه کوی نوآیا ظلم علی الصغیره به لازم سی اوعاصی به سی، دعبارت دشامی اوددر مختار څخه خو معلومیږی چی کله دکفو دفوت کیدو بیره وی اوظلم علی الصغیره لازمیږی نودغه وخت به امتناع عضل وی نه مطلق امتناع نوکه دکفر دفوت کیدو بیره نه وی او دمنشا مطابق دښه پیغام منتظر وی او ددی وجه څخه انکار وکړی لکه چی مروج ده نو دا به عضل وی اوکه نه؟

۲. دصغیره دولی اقرب اودولی ابعد (چی دهغه په تربیت کی صغیره ده) یاخپله په صغیره او ولی اقرب کی میلان اومحبت نسته یا دمال وغیره دوجه یې په خپل مینځ کی مخالفت وی قطع نظر ددی څخه چی څوك پرحق دی نوآیاپه دی صورت کی ولی ابعدته ولایت منتقل کیږی انتقال دولایت خو دغیوبت او دعضل دولی اقرب په صورت کی لیکی داصورت خو جلا دی. دارکم تجربه اومشاهده ده چی دخپل نفع نقصان دوجه بی ځایه جګړی کیږی خو دنکاح په وخت کی ددی بد خواه نه وی په کفو اومهر مثل باندی یې کوی نوددی تجربی سره به هم ولایت منتقل کیږی حال دادی چی احتمال دضرر دلته ډیر ضعیف دی.

جواب: ۱\ . دعبارت دشامی حاصل دادی چی که دوهم کفو موجود او حاضر وی نوکفو اول ته انکار کول عضل نه دی خوکه بل کفو موجود نه وی اودکفو خاطب ته دنکاح کولو څخه انکار وسی نودا عضل دی بیاپه دی باره کی اختلاف دی چی دولی اقرب دعضل په صورت کی ولی ابعد ته ولایت منتقل کیږی اوکه قاضی ته اوددی تصحیح سوی ده. کذافی الشامی ([1]).

۲. په دی صورت کی ولی ابعدته ولایت نه منتقل کیږی. فقط

<u>**دنیکه اولاد پرمور اوپر انا (دپلار مور) باندی مقدم دی**</u>: **سوال**: (۱۹۰۹) یوه انجلۍ ده چی ددی عمر یوولس کاله دی ددی پلار، نیکه، وراره، ورور مړه دی خو دکرنیکه دورور په اولاد کی یې بعضی نارینه اولاد سته اوددی مور، انا ترور موجود دی په دوی کی ولایت دتزویج چاته دی دکرنیکه دورور داولاد په وجودکی موریا اناته یې ولایت حاصل دی او

([1]) ویثبت للابعد الخ التزویج بعضل الاقرب ای بامتناعه عن التزویج اجماعا (درمختار ط.س. ج۳ ص ۸۲) ای من کفو بمهر المثل اما لو امتنع عن غیر الکفو أو لکون المهر أقل من مهر المثل فلیس بعاضل وإذا امتنع عن تزویجها من هذا الخاطب الکفو لیزوجها من کفو غیره استظهر في البحر أنه یکون عاضلا الخ قلت: وفیه نظر لأنه متی حضر الکفو الخاطب لا ینتظر غیره خوفا من فوته الخ نعم لو کان الکفو الآخر حاضرا أیضا وامتنع الولي الأقرب من تزویجها من الکفو الأول لا یکون عاضلا الخ (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۳ - ۴۳۴ ، ط.س. ج۳ ص ۸۲). ظفیر

که نه؟

جواب: ولایت دتزویج دنابالغی عصباتو ته وی علی الترتیب نوچی کله عصبه قریب نسته نو دنیکه دورور په نارینه اولاد کی چی کم زیات نژدی وی هغه ولی دی دده په وجود کی مور، انا اوترور ته ولایت دنکاح نسته. کذا فی الدرالمختار (۱).

دنابالغی چی جبراً بی له اجازته دولی څخه کمه نکاح وسوه هغه صحیح نه ده: **سوال**: (۹۱۰) زید خپله خوښینه په حیله دملاقات دخپل ځان سره بوتلله بغیر داجازی ددی دپلار عبدالله څخه دایي په یوبل ځای کی په نکاح کړه ددی څخه مخکي عبدالله خپله لور هنده دبکر په نوم کړی وه دهندی عمر څوارلس کاله دی داوایي چی زه په دی نکاح راضی نه یم زما دانکاح په زور تړل سویده اوس ددی پلار عبدالله دخپلی لورنکاح دبکر سره کولی سی اوکه نه؟

جواب: زید ته څه ولایت اواختیار دنکاح په دی صورت کی نسته مذکوره نکاح چی بی له رضا او اجازی دهندی اوددی دپلار دعبدالله څخه وسوه داباطله اوناجائز ده (۲) او عبدالله ددی نکاح دبکر سره کولی سی. فقط

دښځی صرف په ګوته لګولو او وروسته په شاهدی جوړولو سره نکاح نه کیږی: **سوال**: (۹۱۱) دیوسړی ورور دری بچی اوکونډه پریښووله اومړسو دمړی ورور دبچو دهمدردی دپاره دکونډی ورینداری سره نکاح کول غوښتل، اودارضا نه وه دایي مجبوره کړه اوپه نکاح نامه یي تری ګوته ولګوله، ښځی په جبر داعمل وکی څه شاهد په وخت دنکاح موجود نه وو ددی څخه وروسته ددوو شاهدانو شاهدی په نکاح نامه ثبت سوه، دوه دوه نیم کاله وروسته سړی ته ددی نکاح متعلق تشویش سو اوده دجواز دنکاح څخه انکار وکی خو ښځه اوس ددی پابیند اوسیدل غواړی دا امر دشریعت داحکامو محتاج دی، دپخوانی نکاح په باره کی دجواز اودنه جواز حکم بیان کړی؟

جواب: چی ترڅو ددوو شاهدانو په مخکی ایجاب اوقبول نه وی سوی نکاح نه صحیح کیږی جبراً ګوته لګول اجازه دنکاح نه ده نوچی کله ښځه دغه وخت په نکاح راضی نه وه اوپه وخت دنکاح څوك شاهدان هم نه وه نودا نکاح صحیح نه سوه (۳) اوس چی کله ښځه

---

(۱) ویثبت للابعد عن اولیاء النسب وهبانیة لکن فی القهستانی عن الغیاثی لولم یزوج الاقرب زوج القاضی (در مختار ط.س. ج۳ ص ۸۲) ذکر فی انفع الوسائل عن المنتقی اذا کان للصغیرة اب امتنع عن تزویجها لاتنقل الولایة الی اخر بل تزوجها القاضی الخ (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۳ ، ط.س. ج۳ ص ۸۲). ظفیر

(۲) الولی فی النکاح لا المال العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولي ج۲ ص ۴۲۷ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر

(۳) ومنها الشهادة قال عامة العلماء انها شرط جواز النکاح هکذافی البدائع (عالمگیری کتاب النکاح باب =

راضی ده نودوباره دی ددی سره ددوو شاهدانوپه مخکی نکاح وسی [۱]، اومخکی چی دکم حرام فعل ارتکاب سوی وو ددی څخه دی توبه وکاږی او استغفاردی وویل سی.

دپلار په وجود کی مور دنابالغی لور نکاح وکړه پلار انکار وکی نونکاح صحیح نه سوه: سوال:

(۹۱۲\) دیوی نابالغی انجلۍ نکاح ددی دمور په اجازه سره وسوه دانجلۍ پلار انکار وکی تردی چی په مجلس دنکاح کی هم شریك نه سو انجلۍ اوس بالغه سوه اودې وویل چی زه بالغه سوم اودشریعت په قاعده زه ددی سړی دنکاح څخه ووتم چی دچاسره زما نکاح زما مور تړلی وه اوس به زه دپلار په رضا نکاح کوم نو دانجلۍ نکاح فسخ سوه اوکه نه؟ او ددی پلار ددی دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دپلار په وجود کی مورته ولایت اواختیار دنکاح نه وو، که مور بی له اجازی دپلار دنابالغی نکاح کړی وه نو دپلار پراجازه موقوفه ده که پلار رد کړه او انکار یي وکی نونکاح باطله سوه [۲]. په دی صورت کی دوهمه نکاح دانجلۍ پلار کولی سی او دخیارِ بلوغ صورت ددی وجه څخه نه سی چلیدی چی په دی کی دشرعی قاضی ضرورت دی بغیر دقضاء دقاضی څخه نکاح نه فسخ کیږی اوشرعی قاضی په دی زمانه کی نسته [۳] اوکه حکم اختیار دفسخ کیدلو ومنل سی نوحکم په تراضی دفریقینو دی. هکذا فی الدرالمختار [۴]. فقط

بغیر داجازی دولی څخه فضولی چی کمه نکاح وکړه اوولی انکار وکی نودا نکاح ونه سوه:

سوال: (۹۱۳\) دیوی نابالغی انجلۍ نکاح ددی دمور دوهم خاوند دیو نابالغه هلك سره وکړه دنابالغی انجلۍ ددوو میریزی ورونو څخه ماسوا بل څوك وارث نسته په وخت دنکاح دمیریزی ورونو څخه اجازه چاوانه خیسته بلکی څه موده وروسته میریزی ورونو ته خبر وسو نومیریزي ورونه خفه سول چی زموږ داجازی څخه بغیر نکاح څنګه وسوه او

= الاول ج۲ ص ۲۵۰ ، ط.س. ج۳ ص ۲۲۷). ظفیر

[۱] ولا ینعقد نکاح المسلمین الا بحضور شاهدین حرین عاقلین بالغین (هدایه کتاب النکاح ج۲ ص ۲۸۲. ط.س. ج۳ ص ۳۰۲). ظفیر

[۲] فلو زوج الابعد علی حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۲. ط.س. ج۳ ص ۸۱). ظفیر

[۳] لهما ای لصغیر وصغیرة وملحق بهما خیار الفسخ ولوبعد الدخول بالبلوغ اوالعلم بالنکاح بعده الخ بشرط القضاء للفسخ (درمختار ط.س. ج۳ ص ۲۹) وحاصله انه اذا کان المزوج للصغیر والصغیرة غیر الاب والجد فلهما الخیار بالبلوغ اوالعلم به فان اختار الفسخ لایثبت الفسخ الا بشرط القضاء (ردالمحتار ج۲ ص ۴۲۱. ط.س. ج۳ ص۷۰). ظفیر

[۴] دخیار بلوغ دپاره وګوری الحیلة الناجزه للتهانوی. ظفیر

دنکاح څخه مخکې دنابالغۍ انجلۍ مور هم مړه وه په دې صورت کې دانجلۍ دبالغ کیدو څخه وروسته بل ځای نکاح کولی سي اوکه نه؟

جواب: دمور دوهم خاوند ددې نابالغې ولي نه دی بلکې ولي عصبه کیږي اوکه قریب ولي نه وي موجود نومیریزي ورونه ولیان دي بغیر ددوی داجازې نکاح نه سي کیدی اوچې کله میریزي ورونه په خبر دنکاح ناراضګي ښکاره کړه نودا نکاح چې موقوفه وه باطله سوه [۱]. نوددې وجه څخه اوس انجلۍ لره په بل ځای کې نکاح کول صحیح دي.

دکونډې نکاح په زور اوزبر دستي سره صحیح نه ده: **سوال**: (۹۱۴\) یوسړی دخپلې کونډې وریندارې سره په جبر نکاح وکړه نوچې کم وخت قاضي دښځې څخه ایجاب وقبول کوی نوښځې دقاضي دهرسوال په جواب کې ویلې دي زما ورور دي خو دزماني موافق قاضي اوشاهدانو ددې جواب ته څه توجه ونه کړه څه موده وروسته دابنځه دخپل پلارکره راغله په دې صورت کې نکاح وسوه اوکه نه؟ په داسې حالت کې دمړخاوند دقریب سره ددې ښځې نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: که دې ښځې دنکاح څخه وروسته هم ددې څخه انکار کړی وي اووطي وغیره په رضاء نه وي سوی نودا نکاح باطله سوه [۲]، اودخاوند دقریب (اکا) سره یې نکاح صحیح ده بلکه دخاوند دسکه اکا سره یې هم نکاح صحیح ده خوچې ترکمه داول خاوند دنکاح بطلان محقق نه وي لکه چې لوړ لیکل سویدی تردغه وخته پورې دبل چا سره یې نکاح نه سي کیدی. فقط

دبالغې نکاح صحیح ده اوکه نه چې کله دا واورې نوپه ژړا سي اوپه وهلو ټکولو شروع سي یا معلومه سي چې دخاوند نسب غلط دی: **سوال**: (۹۱۵\) زید بکرته وویل چې ته زما واده دخپلې لور سره وکړه بکر زید ته وویل ستا حسب نسب څه دی زید وویل چې زه خاص قریشي یم بکر دخپلې لور نکاح دزید سره وکړه بکر کورته ولاړی اولورته یې وویل: چې ما ستا نکاح دزید سره کړیده نودا انجلۍ چې بالغه وه په ژړا اوانګولا سوه چې دا دبهر خلګو واوریده اودتحقیق څخه وروسته معلومه سوه چې دی قریشي هم نه دی بلکې ترک دی اوهلته دیوکلي اوسیدونکی دی نوپه دې صورت کې دانکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دانکاح موافق دتصریحاتو دفقهاؤ صحیح نه ده ځکه چې اول دبالغې نکاح بغیر

---

(۱) الولی فی النکاح لا المال العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب الخ فان زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۷ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر

(۲) فلا تجبر البالغة علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۰ ، ط.س. ج۳ ص ۵۸). ظفیر

ددی داجازته نه صحیح کیږی اوسکوت اوژړل که څه هم فقهاؤ په اجازه محمول کړیدی خو داژړا اودانګولا لفظ چی کم په: سوال کی درج دی دلیل داجازی نه دی بلکی دانکار دلیل دی، دوهم خاوند خپل نسب قریشی وښووی اوپه دی باندی بکر دخپلی لور نکاح دده سره وکړه اوبیا ښکاره سوه چی دخاوند نسب قریشی نه دی نوپه دی صورت کی دنکاح دفسخ اختیار سته. قال فی الشامی کیف والبکاء بالصوت والویل قرینة علی الرد وعدم الرضاء الخ ص۲۹۹ ج۲، ط. س. ج۳ ص۵۹، وفی الدرالمختار اوتزوجه علی انه حر اوسنی الخ فبان بخلاف اوعلی انه فلان ابن فلان فاذا هو لقیط اوابن زنا کان لها الخیار الخ (۱). فقط

دبالغی دیو ګناه دوجه جبراً ددی نکاح وسی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۱٦/۱) کونډه محموده دمځکی والا ښځه ده ددی یوکار کوونکی کافردی دده سره دمحمودي ناجائز تعلق دی هم ددی وجه څخه محموده سره دکوشش داپه دوهمه نکاح نه تیاریږی په داسی حالت کی دمحموده مور دمحموده نکاح جبراً کولی سی اوکه نه؟ یادعدالت په ذریعه داکافر دمحموده کورته دراتلو څخه بندولی سو اوکه نه؟

جواب: دمحموده نکاح جبراً بغیر داجازی اودرضا ددی څخه ددی مورنه سی کولی (۲)، خو په دی کی کوشش کول په کاردی چی دادی ددی کافر اجنبی سره ناجائز تعلق ختم کی اوپرده دی ځینی وکړی چی هرڅنګه کیدی سی دتهمت دموقع څخه دی خوندي سی.

پلار دنابالغی ګمان باندی وکی او نکاح یي وکړه خو انجلۍ بالغه وه انکار یي وکی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۱۷/۱) زید دخپلی لور عقد په دی خیال چی نابالغه ده وکی دداسی هلك سره چی دایي په هیڅ صورت سره خاوند نه منی اوخاوند په طلاق ورکولو راضی نه دی په داسی صورت کی که دمحلی مشران راجمعه سی چی په هغه کی یوعالم هم وی اودوی دتفریق حکم وکی یاپه اکثرو ځایونو کی اسلامی قاضیان مقرر سویدی په دوی که تحقیق وکی اودتفریق حکم ورکړی نودا تفریق نه سی کیدی اودا تفریق شرعًا معتبر نه دی اوطلاق نه دی خوکه زید خپله لور نابالغه ګڼلی وه اوبغیر ددی داجازته او دمعلومولو څخه یي ددی نکاح کړی وي اوپه حقیقت کی دابالغه وه اودی ته په اطلاع ملاویدو سره هغې فوراً انکار وکی نودا نکاح داول څخه باطله ده او دتفریق ضرورت

---

(۱) ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص ۴۳۲ ، ط.س. ج۳ ص ۸۵ تحت قوله والکفاءة هی حق الولی لاحقها، دارنګه وګوی: الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره قبیل باب العدة ج۲ ص ۸۲۲. ط.س. ج۳ ص ۵۰۱. ظفیر

(۲) ولا تجبر البالغة البکر علی النکاح کانقطاع الولایة بالبلوغ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۲۹۰ ، ط.س. ج۳ ص ۵۸). ظفیر

نسته خوکه دی داجازی اخیستو په وخت کی یا داطلاع په وخت سکوت وکی، نونکاح وسوه اودمذکوره وجوه په وجه تفریق نسی کیدی بلکی دخاوند له طرفه دطلاق ورکولو ضرورت سته. فقط

دنابالغی انجلیٔ دپلار په ایجاب او دنابالغی دپلار په قبول سره نکاح وسوه: **سوال**: (۹۱۸) دانجلیٔ نابالغی نکاح ددی پلار دنابالغه هلك سره وکړه دنابالغی انجلیٔ پلار ایجاب وکی بیا دهلك پلار قبول نو بیا دوباره دایجاب ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: په دوهم وار دایجاب کولو ضرورت نسته نوچی کله دنابالغی انجلیٔ پلار په ایجاب سره تکلم وکی اودنابالغه خاوند پلار قبول وکی نونکاح صحیح سوه. فقط

دانجلیٔ نکاح مور وکړه او اکا رد کړه بیایی اجازه ورکړه نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۹۱۹) یوی کونډی ښځی دخپلی لور نکاح په خپل ولایت سره وکړه خو دانجلیٔ اکا ژوندی دی او دغه وخت موجود نه ووو چی کله اکا ته خبر وسو نوده شور اوشر جوړکی اوبیاپه څه لالچ راضی سو اوپه استاپ یی لیکل ورکړه چی موږ په رضا اورغبت سره په خپله دا نکاح منظوره کړه شرعًا دانکاح معتبره ده اوکه غیر معتبر؟

جواب: په دی صورت کی شرعی ولی دنابالغی دنکاح اکا وو اومور یی ولی نه وه، خوکه اکا دومره لیری وو چی دده څخه مشوره اخیستل سخت وو، اودده په انتظار کی دکفو دفوات بیره وه چی په نزد دبعضو باندی ددری ورځو سفردی، نومور ولی سوه، او ددی تړل سوی نکاح صحیح سوه اوپه صورت ددی کی چی دومره لیری نه وی بیا دمور تړل سوی نکاح داکا په اجازه اوپه رضا موقوفه ده [1] نوچی ده په اول خبر دنکاح اوریدو باندی انکار وکی نودا نکاح باطله سوه دوروسته رضاء اواجازه معتبره نه ده نودا نکاح به صحیح نه وی [2]. فقط

په غیر کفوکی داکا داجازی څخه بغیر مور چی دانجلیٔ کم واده کړیدی صحیح نه دی:

سوال: (۹۲۰) په کوچنی والی کی زما پلار مړسو، اکامی موجود دی اوهغه تقریبا دپنځلسو میلو په فاصله دی زما دنابالغتیا په حالت کی زما مور زما اکاته داطلاع

---

(۱) الولی فی النکاح علی ترتیب الارث والحجب الخ فان لم یکن عصبة فالولایة للام الخ وللولي الابعد التزویج بغیة الاقرب فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته مسافة القصر واختار الملتقی ما لم ینتظر الکفو الخاطب جوابه الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۲ – ۴۳۳ . ط.س. ج۳ ص ۷۲ – ۸۱). ظفیر

(۲) لکه چی په دې مسئله کی دی: ولو استاذنها فی معین فردت ثم زوجها منه فسکتت صح فی الاصح بخلاف ما لو بلغها فردت ثم قالت رضیت لم یجز لبطلانه بالرد (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۳. ط.س. ج۳ ص ۲۰). ظفیر

ورکولو څخه بغیر ، دیو سړي غیر کفو سره زما نکاح وکړه نو دشریعت مطابق دا نکاح صحیح ده اوکه نه؟ او زه دبل سړي سره نکاح کولی سم اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وان كان المزوج غيرهما اى غير الاب وابيه الخ لايصح النكاح من غير كفو ([1]) الخ. ددی څخه معلومه سوه چی په غیر کفوکی کمه نکاح دنابالغی ماسوا دپلارنیکه څخه بل ولی کړیده داصحیح نه ده ، ددې وجه څخه دوهمه نکاح کول درته صحیح دي. فقط

بالغ هلک او انجلۍ ایجاب او قبول ونه کړي بلکی ددواړو پلرونو وکړل نونکاح وسوه اوکه نه؟ سوال: (۹۲۱) دیوې انجلۍ په طور دکوزدې ایجاب وسو انجلۍ اوهلك دواړه بالغان وه خوپه وخت دایجاب حاضر نه وه ددوی سره ایجاب ونه سو بلکه ددواړو پلرونو وکړی عالمان هم وه عام مجلس وو اوس دا انجلۍ ددی هلك سره په وجه دولد الزنا کیدو نکاح کول نه غواړي اوانجلۍ قرآن خوانه ده آیا دا په طلاق سره په بل ځای کی نکاح کولی سی اوکه بی له دی کیدی سی؟ داپه دی تردد کی ده، یوعالم چی کم موجودوو هغه وایي چی بل ځای یي نکاح نسی کیدی اوبل وایي چی په دوهم ځای کی په نکاح کولو کی څه باك نسته، نودا تحریر دی واضح سی؟

جواب: په دی صورت کی نکاح منعقده او لازمه نه ده ځکه چی کله دواړه هلکان او انجونی بالغ وه او ددواړو بالغو دطرفه ددوی پلرونو ددوو شاهدانو په مخکی ایجاب وقبول وکی نودا نکاح په اجازه دانجلۍ اودهلك موقوفه وه اوپه صورت دغیر کفو کی دولی په کولو سره دانجلۍ دطرفه سکوت ددی رضا دپاره کافی نه دی ترڅو چی درضا مندی تصریح نه وی اوچی کله انجلۍ رضاء نه ده او دنکاح څخه انکار کوی نونکاح صحیح نه سوه لکه چی په شامی کی دی: واختلف فيما اذا زوجها غير كفو فبلغها فسكت فقالا لا يكون رضًا الخ ([2]). فقط

دانجلۍ ماما ددی دپلار داجازي څخه بغیر دا چانه په نکاح کړي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۲۲) دنابالغی هندی ماما، سره ددی چی ددې پلار هم موجود وو اونور نژدی قریبان هم وه، ددی ولی سو او ددی نکاح یي دزید نابالغ سره وکړه نوچی کله دهندی څه عقل پیدا سو نودې ددې دنکاح څخه انکار وکی اوس چی کله دابالغه سوه نوزید یي را وغوښتی اوورته یي وویل چی زه په تا خوشحاله نه یم ددی وجه څخه ماخپل عقد مات کی نودهندی نکاح فسخ سوه اودابل سړی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ نوکه کولی یي

([1]) الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الولى ج۲ ص ۴۱۹ ، ط.س. ج۳ ص ۶۷. ظفير

([2]) ردالمحتار للشامی باب الولی ج۲ ص........، ط.س. ج۳ ص ۵۹. ظفیر

سی نو آیا عده به تیروی اوکه نه؟

جواب: دپلار او نیکه په وجود کی ماما ولی نه دی که دماما عقد پلار جائز وساتی نودا نکاح صحیح سوه دبلوغ څخه وروسته دهندی په دی ویلو سره چی ما عقد مات کی نکاح فسخ نه سوه اوبل ځای هنده خپله نکاح نسی کولی اوکه دنکاح اجازه پلار وغیر اولیاؤ نه وي ورکړی اوانکار يي کړی وو نودا نکاح صحیح نه سوه نوپه داسی حالت کی مخکی نکاح صحیح نه ده نوهنده خپله نکاح دبلوغ څخه وروسته بل ځای کولی سی (۱).

نه په عده کی نکاح صحیح ده اونه دبالغی درضامندي څخه بغیر: **سوال**: (۹۲۳۱) يوی بالغی کونډی په خپلی رضا په عده کی دننه دخپل لېور سره نکاح وکړه عده لاختمه نه وه چی دانجلۍ پلار په زوره انجلۍ بوتله اودیو بل سړی سره چی دهغه عمر پنځوس کاله دی بغیر درضاء مندی ددی انجلۍ څخه يې نکاح وکړه اودمذکوره ښځی لېور دزوجیت دعوه داخله کړیده ددی وجه څخه دښځی پلار ښځه دلېور کره چی دهغه سره يي اول نکاح سوی وه ولیږله، په دی صورت کی دشریعت مطهره څه حکم دی؟

جواب: په عده کی چی کمه نکاح دلېور سره سویده نوهغه شرعًا باطله اوخطا ده او ددی اعتبار نسته (۲) اوپلار چی کمه نکاح دانجلۍ دبل پنځوس کلن سره کړیده نوهغه هم درضا اوداجازی دانجلۍ څخه بغیر صحیح نه ده (۳) ځکه چی په دی صورت کی دانجلۍ اجازه صراحةً یا دلالةً ضروری ده اودلالةً اجازه داهم ده چی دمهر یانفقه مطالبه دخاونده وکړی یا دی پروطی قادر کړی. کمافی الدرالمختار بل لابد من القول کالثیب البالغة الخ اوما هو فی معناه من فعل یدل علی الرضاء کطلب مهرها ونفقتها وتمکینها من الوطی الخ (۴). اورضا دلالةً هلته معتبره کیدی سی چی ددی څخه مخکی انجلۍ ددی نکاح څخه انکار نه وي کړی اوکه انکار يي کړی وو نودا نکاح باطله سوه (۵)، غرض دا چی که دانجلۍ رضاء دلالةً یاقولاً نه وی نودوهمه نکاح هم باطله سوه، په دی حالت کی

---

(۱) الولی فی النکاح لا المال العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب الخ فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (درمختار) والظاهران سکوته هنا کذلك فلایکون سکوته اجازة لنکاح الابعد (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۳ ، ط.س. ج۳ ص ۸۱). ظفیر

(۲) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدة الخ لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (ردالمحتار باب المحرمات ج۲ ص ۴۸۲ وباب العدة ج۲ ص ۸۳۵. ط.س. ج۳ ص ۱۳۲). ظفیر

(۳) ولا تجبر البالغة علی البکر علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۰ ، ط.س. ج۳ ص ۵۸). ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۳ - ۴۱۴ ، ط.س. ج۳ ص ۲۲. ظفیر

(۵) بخلاف ما لوبلغها فردت ثم قالت رضیت لم یجز لبطلانه بالرد (ایضا ج۲ ص ۴۱۲. ط.س. ج۳ ص۲۲). ظفیر

په دواړو کی دیوه نکاح هم صحیح نه ده اودچا کور ته یي هم لیږل صحیح نه دی اوس چی دچا سره انجلۍ رضا وی دهغه سره یې دوباره نکاح کیدل په کار دی.

تنبیه: (پرجواب دسوال مکرر) دبنده مراد په دې سره هغه نکاح ده چی کمه پلار کړی وه، نوکه دمخکی څخه انجلۍ ته خبرنه وو، نووروسته دنکاح څخه چی کله ورته خبر وسو که دی انکار وکی نونکاح باطله سوه اوکه انکار یي ونه کی اوبیا ددی خاوند کورته ولیږل سوه اوهلته یي وطی وغیره په خوښی وکړی نو دابه هم رضا ګڼل کیږی ددی وجه څخه نکاح صحیح سوه اوچی دچا سره په عده کی نکاح سویده نوهغه بالکل باطله ده په عده کی نکاح نه صحیح کیږی په دی کی دقرابت څه لحاظ اوخیال نسته. ([1]) فقط

دنیکه (دپلار پلار) په وجود کی تره ولی نه سی کیدی: **سوال**: (۹۲۴\) زید مړسو دده ښځه ،پلار، داکا زوی اونابالغه اولاد پاته سو دزید دنابالغه لور نکاح دده اکا وکړه نودانکاح جائزده اوکه نه؟ او دنابالغو ولی څوک دی؟

جواب: په دی صورت کی دزید دنابالغه اولاد ولی دزید پلار دی نوچی دکمی انجلۍ نکاح سویده اودا نابالغه ده نوددی نکاح ددی دنیکه په اجازه کیدی سی ([2])، اکا که دنیکه څخه اجازه اخیستی وی نونکاح صحیح سوه ([3]). فقط

دپلار تړلی نکاح صحیح ده بی طلاقه دوهمه نکاح جائز نه ده: **سوال**: (۹۲۵\) دکریمن نکاح داوو کالو په عمر کی ددی پلار دیو سړی سره کړی وه خودوه کاله وروسته ددی مور کریمن دځان سره واخیسته دوه دری کاله وروسته چی کله ددی عمر یوولس کاله سو نو ددی مورددی نکاح دبل چاسره وکړه اوپلار مړسوی وو بیا ددغه ځایه هم ولاړه اوس زید ددی سره عقد کول غواړی خو په دواړو خاوندانو کی یوهم طلاق نه دی ورکړی نودزید عقد کیدی سی که څنګه؟ څه حکم دی ؟

جواب: مخکی نکاح چی پلار کړی وه صحیح ده هغه نه ده فسخ، نوزید که ددی سره نکاح کول غواړی نوداول خاوندڅخه دی طلاق واخلی نوبیاددی سره نکاح کولی سی ([4]).

([1]) ولا یجوز للرجل ان یتزوج زوجة غیره وکذا المعتدة کذا فی السراج الوهاج (عالمگیری مصری کتاب النکاح القسم السادس ج۲ ص ۲۲۲. ط.س. ج۳ ص ۲۰). ظفیر

([2]) الولی فی النکاح لا المال العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب فیقدم ابن المجنونة علی ابیها در مختار. ط.س. ج۳ ص۷۲) ثم یقدم الاب ثم ابوه ثم الاخ الشقیق الخ (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ج۲ ص ۴۲۸. ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر

([3]) فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۲. ط.س. ج۳ ص ۸۱). ظفیر

([4]) ویجوز نکاح الصغیر واذا زوجها الولی بکر کانت الصغیرة اوثیبا الخ فان زوجهما الاب والجد الخ فلا =

پردی سړی که دبالغی انجلۍ څخه اجازه وغوښته نو ددی چپ کیدل داجازی په حکم کی نه دي: **سوال**: (۹۲۲\۱) دیوی پیغلی بالغی انجلۍ څخه یو پردی سړی اجازه دنکاح طلب کړه دا پردی سړی نه دانجلۍ محرم دی اونه انجلۍ دده په مخکی راځی او دانجلۍ ولی یعنی دانجلۍ پلار اواکا زوی موجود دی خودوی ته هیڅ اطلاع ونه سوه اودا صرف په دی خیال چی که دوی خبر سی نومعامله به درهم برهم سی غرض داچی په پټه یي ددی انجلۍ څخه یي اجازه دنکاح طلب کړه خوهغې څه جواب ورنه کی بالکل چپ پاته سوه دی دباندی راغی اونکاح یي وتړله ددی چپ پاته کیدل یي اجازه وښووله، نوآیا مذکوره صورت کی داچپ پاته کیدل به اجازه وی اوکه نه؟ اودانکاح چی بغیر داجازی اوداطلاع دولی ده صرف دیوپردی سړی په ویلو سره سویده منعقده به وی اوکه نه؟

جواب: که دپیغلی بالغی انجلۍ څخه اجازه اخیستونکی دولی قریب څخه علاوه یوبل پردی سړی وی نوترڅوچی دازبانی اجازه ورکړی اوپه ویناسره رضامندی ښکاره نه کړی دشریعت په اعتبار دارضا مندی نه ده، دپردی سړی دمعلومولو په صورت کي چپ پاته کیدل درضا قائم مقام نه سی کیدی چپ پاته کیدل چی پر رضا دلالت کوی نوهغه صرف په دی صورت کی کیدی سی چی کله اجازه اخیستونکی قریب ولی وی اوچی په صورت مذکوره کی مذکوره بالغی په ژبه اجازه ورنه کړه او رضامندی ښکاره نه سوه اودصحت دنکاح دپاره ددی رضاء مندی ضروری وه نو ددی وجه څخه دا نکاح منعقده نه سوه، په هدایه کی دی: وان فعل هذا الغیر الولی یعنی استأمر غیر الولی او ولی غیره اولی منه لم یکن رضا حتٰی تتکلم [۱]. په دی صورت کی چی پردی دنکاح اجازه طلب کړیده نو دانجلۍ زبانی اجازه ورکول ضروری ده چپ پاته کیدل کافی نه دی چی کله چپ پاته سوه نونکاح ونه سوه. فی الدرالمختار استاذنها غیر الاقرب کاجنبی اوولی بعید فلا عبرة لسکوتها بل لابد من القول کالثیب البالغة [۲]. فقط

دوهم جواب: سکوت دبالغی په دی صورت کی اجازه اورضا نه ده او ددی دسکوت اعتبار نسته: فان استاذنها غیر الاب فلاعبرة لسکوتها الخ الدالمختار [۳]. نودا نکاح به موقوفه وی پراجازه دبالغی که دی دنکاح څخه وروسته دانکاح باقی وساتله صراحةً یایي داسی یو فعل وکی چی هغه دلالت پررضا کوی، لکه تمکین دوطی، طلب دمهر او

= خیار لهما بعد البلوغ (هدایه باب فی الاولیاء ج۲ ص ۲۹۵ – ۲۹۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳۱۲ و۳۱۷). ظفیر

(۱) هدایه باب فی الاولیاء ج۲ ص ۲۹۴. ط.س. ج۳ ص ۳۱۴. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۳. ط.س. ج۳ ص ۲۲. ظفیر

(۳) ایضاً ، ط.س. ج۳ ص ۲۲. ظفیر

نفقه اوخلوت په رضا دبالغی نودا نکاح به صحیح وی کنې نو ناجائزه اوباطله به وی لکه چی په درمختار کی دعبارت مذکوره څخه وروسته داذکردی چی: بل لابد من القول الخ أوما هو في معناه من فعل يدل على الرضا كطلب مهرها ونفقتها وتمكينها من الوطء وخلوته بها برضاها [1] الخ وفي الشامي عن الظهيرية ولو خلا بها برضاها هل يكون إجازة لا رواية لهذه المسألة، وعندي أن هذا إجازة وفي البزازية الظاهر انه اجازة [2] الخ (شامی ص۴۱۳ ج۲) وفی الدرالمختار ونکاح عبد وأمة بغير إذن السيد موقوف على الإجازة كنكاح الفضولي الخ وفي الشامي وأما الضحك فذكر في فتح القدير أولاً أنه كالسكوت لا يكفي ومسلم هنا أنه يكفي الخ (ردالمحتار باب الولی ج۲). ظفیر

دنابالغه انجلۍ ولی ددی پلار دی نیکه (دلور پلار) ددی نکاح نسی کولی: سوال: (۹۲۷/۱) دیوسړی لور دشروع څخه دخپل نیکه په پالنه کی ده پلار داول څخه ددی انجلۍ سره تعلق ختم کړیدی هیڅ قسم خبر یي نه اخلی په دی حالت کی ددی انجلۍ عقد ددی نیکه کولی سی اوکه نه؟ اوعلامات دبلوغ څه دی؟

جواب: چی تراوسه دا انجلۍ نابالغه ده بغیر دپلار درضاء او داجازی څخه ددی نکاح نه سی کیدی ځکه چی شرعی ولی په دی حالت کی پلار دی [3] خو چی کله دا انجلۍ بالغه سی نوپه خپله ددی په اجازه سره په کفوکی ددی نکاح به صحیح وی اودانجلۍ بالغیدل په حیض معلومیږی که حیض یي رانه سی نو دپنځلسو کالو په عمر به شرعًا بالغه سی یعنی دشپاړسم کال په شروع [4]. هکذا فی کتب الفقه. فقط

د: لاَ نِكَاحَ الاَّ بِوَلِيِّ مطلب: سوال: (۹۲۸/۱) بالغی زینب بی داذن دولی ابعد څخه په وجود دسکه انا (دپلار مور) اوپه عدم موجودګی دمورکی په حضور دشاهدانو دعمرسره نکاح وکړه اوولی ابعد اومور یي په دی نکاح راضی نه وه، نوکه دانکاح صحیح وی نودحدیث چی: لاَ نِكَاحَ اِلاَّ بِوَلِيِّ ، څه مطلب دی؟ اوددی به جواب څه وی؟

جواب: دبالغی نکاح بی داذن دولی څخه په کفو کی صحیح ده اوپه غیر کفو کی صحیح نه ده على المذهب المختار اوهم دامحمل دی د: لاَ نِكَاحَ اِلاَّ بِوَلِيِّ، دهغه فقهاؤ په نزد

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۳. ط.س. ج۳ ص ۷۲. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۳. ط.س. ج۳ ص ۷۳. ظفیر

(۳) الولی فی النکاح لا المال العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر

(۴) وبلوغ الجارية بالحيض والاحتلام والجبل فان لم يوجد ذالك فحتى يتم لها سبع عشرة سنة عند ابي حنيفة وقالا اذا تم للغلام والجارية خمس عشرة سنة فقدبلغا وهو رواية عن ابى حنيفة (هدايه كتاب الحجر فصل فى حد البلوغ ج۳ ص ۳۴۱ ، ط.س. ج۳ ص ۳۵۷). ظفیر

چی هغوی په غیر کفوکی نکاح ته صحیح نه وایي، اوچی څوك ورته صحیح موقوف علی اجازه الولی وایي ددوی په نزد محمول دی په نفی دکمال اومطلب دادی چی کمه نکاح بی داجازی دولی سویده نونژدی ده چی ماته سی یعنی که ولی وغواړی نودا فسخ کولی سی. اوشامي داجواب هم ورکړیدی چی مذکوره حدیث معارض دی دبل حدیث سره چی: اَلْاَیْم اَحَقٌّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِیِّهَا (رواه مسلم) اودا قوی دی تر: لاَ نِکَاحَ اِلاَّ بِوَلِیٍّ، نو ځکه راجح دی پردی باندي، حاصل دادی چی که په مذکوره صورت کی زینب نکاح په وجود دشاهدینو کی کړیده نودا منعقده سوه ([1]). فقط

بغیر دولی داجازته دنابالغی نکاح صحیح نه ده: سوال: (۱۹۲۹) دهندی نکاح په حالت د نابالغتیا کی دزید سره وسوه اوځه ولی دهندی په وخت دنکاح موجود نه وو نوآیا نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: دنابالغه نکاح بی داجازته دولی نه کیږی کذا فی الدالمختار: وهوای الولی شرط صحة نکاح صغیر الخ ([2]). فقط

دصغیر اولاد ولی پلار دی: سوال: (۱۹۳۰) موږ په خپل اولاد په خپله قادر یو چی کم ځای غواړو واده یي کړو اوکه دشریعت محتاج یو؟

جواب: داولاد اختیار الله ﷻ پلار ته ورکړیدی چی په کم ځای کی ددی مصلحت ووینی نکاح دی وسی شرعًا پردی څه بندیز نسته ([3]). فقط

دنیکه (دپلار پلار) ورور چی ولی دی هغه دانجلۍ مور ته اختیار ورکی او بیایه خپله نکاح وکړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۹۳۱) دیوی نابالغی انجلۍ چی دهغه دسکه نیکه دوررور څخه اودمور څخه علاوه بل څوك ولی نسته اودنیکه ورور ددی لمسی اختیار دنابالغی مور ته ورکړی اولیکل هم وکړی چی دمور درضا څخه بغیر به ماته دنابالغی دنکاح هیڅ اختیار نه وی ددی څخه وروسته بی دمور درضا څخه دنابالغی نکاح وتړی داعقد شرعًا جائزدی؟ اوکه مور اوس ولی ده؟

جواب: په دی ویلو اولیکلو سره ولایت اواختیار دنکاح دنابالغی دنیکه دوررور دپاره دولی چی ولی اقرب دی نه ساقطیږی خوکه مور په وجه داختیار ورکول کیدو دنابالغی نکاح وکړی نوداهم صحیح کیږی خوپه دی سره داخ الجد ولایت نه ختمیږی نوچی کمه

([1]) فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضا ولی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۷، ط.س. ج۳ ص **۵۵**).

([2]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۷ ، ط.س. ج۳ ص **۵۵**. ظفیر

([3]) دنابالغ اولاد اختیار دپلار پررایه باندی دی اودبالغ اولاد څخه اجازه اخیستل ضروری دی بالغ اولاد ته په واده کولوکی وربانذی دجبر اختیار نسته: الولی شرط صحة نکاح صغیر الخ لا مکلفة فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضا ولی الخ ولا تجبر البالغة البکر علی النکاح (ایضا ص ۴۰۷ ج۲، ط.س. ج۳ ص **۵۵**). ظفیر

نکاح ده په خپل ولايت سره وکړه هغه صحیح ده: والولاية تنفیذ القول علی الغیر وهوای الولی شرط صحة نکاح صغیر ومجنون [1] الخ. فقط

دنکاح ولي اکا دی ماما نه دی او دمال ولي يو هم نه دی: **سوال:** (۹۳۲) کنیز اومریم يتيماني دی اوددوی وارثان يوميريزی اکادی اويوسکه مامادی دشروع څخه داکاپه ولايت کی دی، دی اکا چي ددوی دپلار کمه حصه په جائيداد کی دوی ته رسيدله په هغه يي فرضي بيع نامه ښکاره کړه اوداټول جائيداد يي په خپل نوم کړی اوپه ډير رقم يي ګرو کړی اوس ماما غواړی چي دا انجلۍ داکا دولايت څخه زما ولايت ته راسی چي ددوی وهل سوی حق ثابت کړم اوقائم يي کړم په داسی حالت کی دنقصان رسوونکی اکا ولايت منسوخ کيدی سی او ماما ته منتقل کيدی سی اوکه نه؟

جواب: دنابالغو دنکاح په دی صورت کی ولايت اکا ته دی ځکه چي دی عصبه دی ماما ته په وجود داکا کی ولايت دنکاح نسته او دنابالغو دمال ولايت اختيار نه اکاته دی او نه ماماته نوچي اکا دنابالغو مال ته تاوان ورکړيدی نو دده دنابالغو په مال کی دتصرف څخه منع کول په کاردی په درمختار کی دی چي: الولی فی النکاح لا المال العصبة بنفسه الخ قوله لا المال فان الولی فیه الاب ووصیه والجد ووصیه الخ ردالمحتار [2] ج۲ ص۱۱. وولیه ابوه ثم وصیه الخ دون الام الخ (درمختار) قال الزیلعی واما ماعدا الاصل عن العصبة کالعم والاخ اوغیرهم کالام الخ لایصح اذنهم له لانهم لیس لهم من یتصرفوا فی ماله الخ شامی [3] ج۵. ددی عبارتونو څخه واضحه سوه چي اکاته دماشوم دمال ولايت نسته دنکاح ولايت ورته سته نوولايت دنکاح به په حالت موجوده کی ماما ته نه منتقل کيږی. فقط

بالغه په نکاح کي خودمختاره ده خو دکفو لحاظ ضروري دی: **سوال:** (۹۳۳) زيد مړسو ورور، مور، پلار، کونډه اولور يي پريښوول څه وخت وروسته يي مور اوپلار هم مړه سوه انجلۍ په خوښي اورضاء دخپل ځان اودمور، دبکر سره چي دمور دخاندانه دی عقد کول غواړی سکه اکا معترض دی چي بکر کفونه دی اودخپل زوی سره يي عقد کول غواړی چي انجلۍ اوددی مورته دڅه وجوه څخه ناخوښه دی په دی صورت کی څه حکم دی اوانجلۍ به په څومره عمر کی بالغه ګڼل کيږی اوآيا دزيد ورور حق دولايت لری دکفو اعتبارپه څه وخت کی ساقطيږی اوکه نه؟ هندوستان کی څوك دچاکفودی دکفو او

---

[1] الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ص۴۰۷ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۵. ظفیر

[2] ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۷ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲. ظفیر

[3] ردالمحتار کتاب الماذون مطلب فی تصرف الولی. ومن له الولایة علیه ج۵ ص ۱۵۱ - ۱۵۲ ج۲، ط.س. ج۲ ص۱۷۴.

دغیر کفو څه تعریف دی؟

جواب: دپنځلسو کالو په عمر کی انجلۍ شرعًا بالغه کیږی اوکه ددی څخه مخکی څه علامی دبلوغ حیض وغیره راسی نومخکی به بالغه سی اواکابی شکه په دی صورت کی ولی دی، خوولی لره پرنابالغه خبرًا اختیار دنکاح سته پربالغه نسته (۱). بالغه په خپله مرضی سره په کفو کی نکاح کولی سی اوپه غیر کفوکی یې نه سی کولی، په غیرِ کفو کی بی شکه ولی ته دبندولو اختیار سته اودکفو اعتبار په هیڅ حالت نه ساقطیږی او کفو کیدل په اعتبار دنسب اوپه اعتبار ددیانت او دپرهیزگاری او دمالداری او دنه مالداری اوپه اعتبار دکسب معتبردی اوتفصیل ددی ټولو امورو په کتابونو دفقه کی دی دلته ددی تفصیل لیکل گران دی (۲). فقط

<u>دانجلۍ په اجازه سره ددی نکاح صحیح ده</u>: **سوال**: (۹۳۴\) په بنگال کی دا دستور دی چی دبالغی انجلۍ ولی دعقد دنکاح څخه مخکی سره دڅوقریبانو انجلۍ دجنج سره رخصت کړی دشاه زلمی کورته چی کله انجلۍ دشاه زلمی کورته ورسیږی نوبیا دری سړی دیته ورسی اوپه دوی کی یو دانجلۍ څخه پوښتنه وکړی چی ته زما دوکالت په واسطه په عوض ددومره مهر خپل نفس فلانی دفلانی زوی ته په نکاح ورکول قبلوی انجلۍ وایي، قبول مي دی، نوبیا دادری واړه مجلس دشاه زلمی ته راسی اودده څخه پوښتنه وکړی چی فلانی دفلانی لور په عوض ددومره مهر خپل نفس ستاپه نکاح کی درکړیدی تا دا قبوله کړیده نوشاه زلمی ووایي قبوله مي ده، نوداسی نکاح صحیح کیږی اوکه نه؟ او نابالغی ته خیار بلوغ سته اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دبالغی نکاح منعقده کیږی ځکه چی پخپله دبالغی څخه اجازه واخیستل سوه اوپه درمختار کی دی: فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضی ولی الخ. اودلته خودولی رضامندی هم ښکاره ده او دنابالغی دنکاح دپاره به ولی دغه خلگ چی نکاح تړونکی ته دنکاح تړلو وایي، وکیل جوړکی، اونابالغی ته دبلوغ اختیار دفسخ په خپلو شرائطو سره باقی دی (۳) کمافی الدرالمختار: وإن کان المزوج غیرهما أي غیر الأب وأبیه ولو الأم أو القاضي أو وکیل الأب الخ لا یصح النکاح من غیر کفو الخ وان کان من

---

(۱) وینعقد نکاح الحرة العاقلة البالغة وان لم یعقد علیها ولی بکرا کانت اوثیبا الخ ولا یجوز للولی اجبار البکر البالغة علی النکاح (هدایه باب فی الاولیاء ج۲ ص ۲۹۳ – ۲۹۴. ط.س. ج۲ ص ۳۱۳). ظفیر

(۲) واذا زوجت المرأة نفسها من غیر کفو فللاولیاء ان یفرقوا بینهما دفعا لضرر العار عن انفسهم (هدایه فصل فی الکفاءة ج۲ ص۳۲۰، ط.س. ج۲ ص ۳۲۰). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۷ ، ط.س. ج۳ ص **۵۵**. ظفیر

کفو وبمهر المثل صح ولکن لهما ای لصغیر وصغیرة وملحق بها خیار الفسخ بالبلوغ الخ بشرط القضاء الخ ([1]). فقط

داکا تړل سوی نکاح انجلۍ بغیر دقاضي دقضاء څخه نه سی فسخ کولی: **سوال**: (۹۳۵) یو سړی مړسو نابالغه لور، ښځه اویو وړور ځینی پاته سو دمړی ښځی دخپل لېور یعنی دبالغی دتره سره نکاح وکړه او دنابالغی انجلۍ اکا دمذکوره انجلۍ نکاح یعنی دخپلی وریری نکاح دخپل زوی سره وکړه په خپل مینځ کی دجنګونو په وجه انجلۍ په بالغیدو سره دمور په اشاره یاپه خپل عقل دنکاح څخه انکار وکی، اوخاوند هم خپلو دوستانو ته وویل چی زما هیڅ تعلق ددی ښځی سره نسته په داسی حالت کی دانجلۍ دوهمه نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: ددی انجلۍ ولی په دی صورت کی ددی اکادی، که په حالت دعدم بلوغ دانجلۍ کی ده ددی نکاح دخپل زوی سره کړیده نودا نکاح صحیح ده اوپه دی زمانه کی دشرعی قضاء دنه کیدو په وجه دښځی په انکار نکاح نه فسخ کیږی ([2]) اودا ویل دخاوند چی زما هیڅ تعلق ددی ښځی سره نسته صریح طلاق نه دی بلکی کنایي دی ([3]) په دی کی دخاوند دنیت اعتباردی که دی ووایي چی زمانیت دطلاقو نه وو نوپه دی لفظ سره طلاق نه واقع کیږی بغیر دطلاقو دخاوند څخه ددی دوهمه نکاح صحیح نه ده. فقط

مسلمان دیوی غیرمسلمه نابالغی نکاح نه سی کولي: **سوال**: (۹۳۶) یوه انجلۍ دیونیم کال ده ددی مور او پلار مشرکان وه، دوی مړه سول حاکم یو مسلمان ته وسپارله اوس دا مسلمان ددی واده کولی سی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار: ولاینفذ للملتقط علیه نکاح ولا بیع الخ، وفی الشامی لانه یعتمد الولایة من القرابة والملك والسلطنة ولا وجود لواحد منها نهر الخ. ددی عبارت څخه معلومه سوه چی دامسلمان ددی نابالغی نکاح نسی کولی خودبلوغ څخه وروسته ددی په اجازه به ددی نکاح صحیح سی. فقط

ولي دبالغی نکاح وکړه اوبالغه چپ وه بیایي انکار وکی: **سوال**: (۹۳۷) زید په مرض الموت کی دخپل بالغ زوی عمردزینب سره نکاح وکړه دغه وخت عمرپه مجلس دنکاح کی حاضر

([1]) ایضا ج۲ ص ۴۱۹ ، ط.س. ج۳ ص ۲۷. ظفیر

([2]) ولهما الخ خیار الفسخ ولو بعد الدخول بالبلوغ اوالعلم بالنکاح بعده الخ بشرط القضاء للفسخ (درمختار. ط. س. ج۳ ص ۲۹) حاصله انه اذا کان المزوج للصغیر والصغیرة غیر الاب والجد لهما الخیار بالبلوغ اوالعلم به فان اختیار الفسخ لایثبت الفسخ الابشرط القضاء (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۱، ط.س. ج۳ ص۷۰). ظفیر

([3]) کنایة ما لم یوضع له الخ فالکنایات تطلق بها قضاء الابنیة او دلالة الحال (درمختار) قوله قضاء قیدبه لانه لایقع دیانة بدون النیة (ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۷۳۲. ط.س. ج۳ ص ۲۹۷). ظفیر

نه وو، اوس عمر خپله نکاح دزینب سره منظوره نه ګرزوی نو آیا نکاح دعمر او دزینب صحیح ده او که نه؟

جواب: که عمر ته دپلار دنکاح دخبر رسیدو سره سم هغه رد نه کړه صراحةً یا دلالةً یې جائز وساتله نکاح منعقده سوه ددی ځخه وروسته په انکار دعمر بطلان دنکاح صحیح نه سو که عمر داطلاع دنکاح مذکور ځخه وروسته ردکړی وی نومذکوره نکاح باطله سوه. فقط

په غیر کفو کی دمور تړل سوی نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۹۳۸) زید په سفرکی دی دزید ښځی هنده نابالغه یوه نابالغ هلك ته په نکاح کړه چی دغیر کفو ځخه دی ځکه دهلك پلار بتهیاری دی نکاح یې بغیر درضا دخاوند ځخه یعنی دانجلی دپلار ځخه وکړه دمور په اجازه سره چی کمه نکاح دنابالغی په غیر کفو کی سویده صحیح ده او که نه؟

جواب: په دی صورت کی دمور په اجازی چی کمه نکاح په غیر کفو کی سویده داصحیح نه ده. هکذا فی الدرالمختار. (۱) فقط

دپلار په وجود کی بل ولی نسی کیدی: **سوال**: (۹۳۹) دزید لور صالحه ده چی کله دصالحه مور مړه سوه نوعمر یې پالنه کوله زید عمرته حواله کړی وه عمر صالحه په حالت دنابالغی کی بکر ته په دوستي ورکړه زید ژوندی دی دڅه وجه هغه دصالحه په دوستي دبکر سره په کولو راضی نه دی اوس دنابالغه صالحه عقد په اجازه دعمر دبکر سره کیدی سی او که نه؟

جواب: دنابالغي صالحه چی لور دزید ده ولی زید دی دعمر په اجازی بی اجازته دزید دصالحی نکاح صحیح نه ده. هکذا فی کتب الفقه (۲). فقط

دورور په وجود کی میریزی پلار ولی نه دی: **سوال**: (۹۴۰) دیوی نابالغی انجلی میریزی پلار اوسکه مور موجوده ده اودانجلی سکه بالغ مشر ورور دیوی ورځی په فاصله دی که میریزی پلار اوسکه مور دیوسړی سره دنابالغه نکاح وکړی اوسکه ورور ته دعقد ځخه وروسته خبر ورسیږی اوهغه اجازه ورنه کړی او راضی نسی نوپه داسی حالت کی نکاح صحیح کیدی سی او که نه؟

جواب: په داسی حالت کی شرعی ولی ددی نابالغی ددیسکه ورورددی که ده اجازه نه وی

---

(۱) ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلاد وهو المختار للفتوىٰ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۹، ط.س. ج۳ ص ۵۲). ظفیر

(۲) الولی فی النکاح لا المال العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب الخ فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر

ورکړی نونکاح ونه سوه. کذا فی الدرالمختار (1). فقط

دغير ولي نكاح پراجازه دولي موقوفه ده: **سوال**: (۹۴۱\) يوه نابالغه يتيمه انجلۍ چې دهغې مور دوهمه نکاح کړيده اودا دانا (دمور دطرفه) په پالنه کی ده ددې نکاح دانا په ولايت سره چی کله دا نابالغه وه وسوه اوس انجلۍ ځوانه ده اودخپل خاوند څخه په وجه ددی دکم عمر کيدو متنفره ده آيا دادوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟ اومخکی نکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: په وجود دمور کی انا ولی نه وه، نوچی دی کمه نکاح په حالت دعدم بلوغ دانجلۍ وکړه نوهغه دشرعی ولی په اجازه موقوفه وه اوولی دنکاح عصبات وی علی ترتيب الارث والحجب، بياکه عصبه نه وی نومور ولی ده ترانا دمور درجه مقدمه ده، که څه هم خور دوهمه نکاح کړی وی، وروسته که ددی نکاح اجازه ولی کړی وی نودا نکاح صحيح سوه اوس بی دخاوند دطلاق ورکولوڅخه څه صورت ددې نکاح څخه دخلاصيدو نسته اوکه جائز ولی دانکاح خوښه کړی نه وی او انکار يي کړی وی نودا نکاح باطله سوه، په دی صورت کی انجلۍ دوهمه نکاح په خپل کفو کی کولی سی (2). فقط

دبالغي نكاح ددی دعلم څخه بغير وسی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۹۴۲\) زيد دخپلی لور هندی بالغی نکاح دبکر سره وکړه خو دنکاح په وخت کی ددی څخه اجازه وانه خيستل سوه اونه يي دې ته اطلاع ورکړه نودا نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: نکاح موقوفه ده چی کله انجلۍ ته خبر دنکاح ورسيدی که داچپ پاته سوه او انکار يي ونه کی نونکاح منعقده سوه. فی الدرالمختار: فإن استأذنها هو أي الولي وهو السنة أو وكيله أو رسوله أو زوجها وليها وأخبرها رسوله أو فضولي عدل فسكت عن رده مختارة الخ فهو اذن الخ (3). فقط

صرف دنابالغي په ايجاب او قبول سره نكاح صحيح ده اوكه نه؟ **سوال**: (۹۴۳\) په نابالغ هلك او انجلۍ باندی په ايجاب اوقبول کولو سره نکاح صحيح کيږی اوکه نه؟

په دی صورت کی څه حکم دی؟ (۲) دلته دستور دی چی نکاح تړونکی دنابالغ دپلار يا دبل ولی څخه اجازه واخلی ددوو شاهدانو سره نابالغی انجلۍ ته ورسی اوديته کلمه

(1) فلو زوج الابعد حال قيام الاقرب توقف على اجازته (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷، ط.س. ج۳ ص ۸۱). ظفير

(2) فلو زوج الابعد حال قيام الاقرب توقف على اجازته (درمختار ط.س. ج۳ ص۸۱) فلا يكون لسكوته اجازة لنكاح الابعد وان كان حاضرا فی مجلس العقد ما لم يرض صريحا او دلالة (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲ – ۴۳۳، ط.س. ج۳ ص ۸۱). ظفير

(3) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۰ – ۴۱۱. ط.س. ج۳ ص ۵۸. ظفير

ووایي چی ستا نکاح په عوض ددومره مهر دفلانی سره کیږی تا قبوله کړه؟ هغه ووایي هو! قبوله مي ده یا داسی هلك ته وویل سی غرض دا چي ددواړو جانبو څخه قبول کیږی دایجاب څه درك نسته شرعًا دانکاح صحیح کیږی اوکه نه؟ شرعًاچی کمه طریقه مسنونه ده هغه ولیکئ!

دنابالغی ولی په غیر ایجاب او قبول وکړی نوڅه حکم دی؟ (۳) که ولی په خطبه ویلو یا صرف په ایجاب اوقبول قادرنه وی په وجه دشرم نو په یوغیر ایجاب او قبول کول څنګه دی؟

جواب: ۱\. دنابالغو دایجاب او قبول اجازه که ولی ورکی نونکاح صحیح سوه .

۲\. چي کله نکاح تړونکي دولي په اجازت داسي وکړل نو نکاح صحیح سوه او په دی دواړو کلامونوکی به مخکی ایجاب اودوهم قبول ګڼل کیږی اواصل خودا دی چی دنا بالغی څخه دایجاب اوقبول کولو هیڅ ضرورت نسته ددوی ولی یاولی چی چاته اجازه ورکړی ایجاب او قبول دی وکړی. فقط

۳\. په دی کی هیڅ حرج نسته. فقط

دلیونی نکاح بی دولی څخه صحیح نه ده: **سوال**: (۹۴۴) یو سړی دیوی ښځی مهری مدهوشی سره نکاح کړیده ددی ذات معلوم نه دی مولوی صاحب بی دتحقیقه ددی دذات وغیره ددی نکاح وتړله نودا نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وهی ای الولی شرط صحة نکاح صغیر ومجنون [1] الخ. نو که داښځه مجنونه ده اودیته هیڅ وخت هم هوش نه وی نو ددی نکاح بی دولی یا دحاکم دمسلمانانو نسی کیدی اوکه مجنونه نه ده نوپه خپله ددی په اجازه او رضا سره نکاح کیدی سی [2]. فقط

دنابالغی ایجاب اوقبول دپلار په وجود کی دده په رضاسره سوی وی نونکاح صحیح ده: **سوال**: (۹۴۵) دزید نکاح دهندی سره چی کله دزید عمر دپنځلسو کالو څخه لږ کم وو وسوه په مجلس دنکاح کی دزید پلار موجود وو خو دزید دپلار په ولایت نکاح ونه سوه زید په خپله ایجاب اوقبول وکی په نکاح نامه دزید دپلار دستخط صرف دشاهد په حیثیت دی دانکاح صحیح سوه اوکه دوباره نکاح کیدل په کاردی؟

جواب: چی کله دزید پلارپه دی مجلس کی موجود وو اودده په رضا اوپه اجازه سره زید

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۷ ، ط.س. ج۳ ص ۵۵. ظفیر

(۲) فنفذ نکاح حرة مکلفة بلارضا ولی والاصل ان من تصرف فی ماله تصرف فی نفسه ومالا فلا (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۷ – ۴۰۸ ، ط.س. ج۳ ص ۵۵). ظفیر

قبول وکی نودا نکاح صحیح سوه اومهر چی هم څه لیکل سویدی اوپلار په دی دستخط کړیدی صحیح سو ددوباره نکاح کولو ضرورت نسته. فقط

دنابالغی نکاح دپلار په وجود کی بل سړی کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۹۴۶) دنابالغو بچیانو نکاح دمور اوپلار په وجود کی یوبل سړی کولی سی اوکه نه؟

جواب: دنابالغی بچی مخکنی ولی پلار دی اوبیا نیکه اوبیا ورور وغیره، نو دپلار په وجود کی که یوبل سړی دنابالغه نکاح وکړه نودا نکاح دپلار پراجازه موقوفه ده، نوکه پلار اجازه وکړه نونکاح وسوه کنې نو نه ده سوی. (۱) فقط

دپلار په اجازه سره دنابالغ نکاح وسوه اونابالغ قبول وکی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۴۷) زید دخپلی لور نابالغی په نکاح باندی اوعمر دخپل نابالغ زوی په نکاح راضی سو، نکاح تړونکی ته یي وویل نکاح وتړه نکاح خوان دزید اوعمرپه وجودکی ددوو شاهدانو په مخکي نکاح وکړه عمر قبول ونه کی هلك قبول وکی نودا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: چی کله پلار ددی نابالغه په مجلس دنکاح کی موجود وو اوده دنابالغ قبول تسلیم کی نودا قبول پلار ته منسوب سو اونکاح صحیح سوه ځکه چی دصبی نابالغ ممیز داسی قسم تصرفات چی متردد بین الضرر والنفع وي دولي پرقبول موقوف دي، که ولي اجازت ورکړی نوجائز دي، وما ترد من العقود بین نفع وضرر کالبیع والشراء توقف علی الاذن الخ کتاب الماذون درمختار الخ. (۲) اونکاح هم په شان دبیع اودشراء ده. فقط

دنابالغ ولی دایجاب اوقبول څخه وروسته مړسی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۴۸) زید دخپل نابالغه زوی دپاره یوه انجلۍ نابالغه په عقد دنکاح قبول کړه دزید زوی لانابالغ وو چی زید مړسو اوولایت دقبولیت دنکاح یي بل ولی ته ورنه کی نوشرعاً څه حکم دی؟

جواب: که زید په خپل ژوند کی دخپل نابالغ زوی نکاح چی دنابالغی انجلۍ دولی په ولایت سره سوی وه قبوله کړیده او ایجاب اوقبول دنکاح باقاعده ددوو شاهدانو په مخکی سوی وو نودا نکاح منعقده سوه ځکه چی دنابالغو دطرفه ددوی ولی ایجاب او قبول کوی یعنی په مرګ سره په نکاح کی نقصان نه راځی نکاح سوی وه. فقط

دنابالغی دپاره دپلار اجازه کافی ده په مجلس کی دده وجود ضروری نه دی: سوال: (۹۴۹) په یوه نکاح کی داصورت وو چی دانجلۍ پلارجنج ته رانغی اونکاح دهلك په کوروسوه

(۱) فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۳، ط.س. ج۳ ص۸۱). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الماذون ج۵ ص۱۵۰، ط.س. ج۳ ص ۱۷۳. ظفیر

قاضی دانجلۍ دپلار څخه اجازه واخیسته اوراغی بیا نکاح وسوه نودا نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: که دانجلۍ پلار دنکاح کیدو څخه وروسته په دی نکاح راضی وو اجازه یي ورکړی وه نونکاح صحیح سوه. فقط

دبالغی نکاح پلار وکړه خو درخصتی په وخت ده انکار وکی څه حکم دی؟ سوال: (۱۹۵۰) دزید پیر زید په دی خبره مجبوره کی چی ته دخپلی لور نکاح دبکر دزوی سره وکړه مخکی خوزید انکار کوی خودپیر صاحب په زیات زور اچولو باندی مجبوراً راضی سو، اودخپلی بالغی لور نکاح یي دبکر دزوی سره وکړه خوددی څخه وروسته چی کله دا خلګ دناوی وړلو دپاره راغلل نوده ورنه کړه بلکی دمذکوره لور نکاح یي دبل سړی سره وکړه اوداول نکاح په وخت هم نه زید دلور څخه اجازه اخیستی وه اونه یي ورته ددی څخه وروسته اطلاع ورکړی وه په دی صورت کی کمه نکاح جائز ده؟

جواب: په دی صورت کی مخکی نکاح صحیح سوه. لقوله ﷺ ثلث جدهن جد وهزلهن جد الحدیث. په درمختار کی دی چي دعاقلی بالغی سکوت په وخت داستیذان دولی کی اجازه ده، اودارکم چی عاقلی بالغی ته کم وخت دنکاح اطلاع ورکول سی اودا سکوت وکړی ([1]). نوداهم اجازه ده نودوهمه نکاح صحیح نه سوه. لان نکاح منکوحة الغیر باطل کذافی الدرالمختار والشامی قال الله تعالٰی (وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ الآیه، (سورة النسآء ، آیة: ۲۵). (خوکه بالغی دنکاح په خبر اوریدو سره انکار وکی نونکاح منعقده نه سوه. ظفیر)

داجازی څخه وروسته دبالغی نکاح صحیح ده: سوال: (۱۹۵۱) زید دخپلی لور دنکاح تاریخ مقرر کی اوانجلۍ یي په ګنج کی کښېنوله غرض داچی انجلۍ ته علم وسو چی زمانکاح به دفلانی سړی سره وی دنکاح په وخت زید قاضی ته وویل چی دانجلۍ نکاح وتړه انجلۍ ته دنکاح علم وسو په دی صورت کی نکاح سویده اوکه نه؟

جواب: دپلار دنکاح کولو په صورت کی دانجلۍ بالغی دنکاح په اطلاع چپ پاته کیدل کافی دی نکاح کیږی خوسنت دادی چی پلار دخپلی لور څخه اجازه دنکاح واخلی او ورته ووایي چی زه ستا نکاح دفلانی سره کوم په دی سکوت کول ددی رضاء اواجازه ده او نکاح به وسی. ([2]) فقط

([1]) وګوری ردالمحتار ج۲ ص ۴۸۴ ، ط.س. ج۳ ص ۵۹. ظفیر

([2]) ولا تجبر البالغة البکر علی النکاح الخ فان استاذنها هو ای الولی وهو السنة الخ فسکتت عن رده مختارة او ضحکت غیر مستهزئة الخ فهو اذن (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۰ – ۴۱۱، =

دنابالغی په اجازه سره ماما ددی نکاح وکړه نو دا صحیح ده: سوال: (۹۵۲) یوه انجلۍ دخپل ماماسره اوسیدله ځکه چې ددی پلاردلسوکالوداسی‌مفقودالخبردی ماما دانجلۍ داکا په وجود کی وروسته دبالغیدو څخه نکاح وکړه اوانجلۍ په وخت داجازی اخیستو کی سکوت وکی دځه وجه څخه یي اجازه ورنه کړه نونکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: دانکاح دانجلۍ دبالغیدو څخه وروسته دانجلۍ په اجازه سویده خو دانجلۍ سکوت په مقابله دغیر ولی کي اجازه نه ده که ددی څخه وروسته دلالت درضا په شان دوطی وغیره نه وی سوی نونکاح نه ده سوی (۱). فقط

اکا دوریری نکاح وتړله خو ددوه ویشتو کالو په عمر کی انجلۍ دوهم واده وکی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۵۳) دیوی نابالغی انجلۍ نکاح ددی مور، اکا اوماما وکړه ددوی څخه ماسوا بل ولی نه وو، ددوه ویشتو کالو په عمر کی انجلۍ دنکاح څخه انکار وکی چی زما نکاح نه ده سوی اوپه سرکار کي یي دعوه وکړه بله نکاح یي وتړله اودخاوند کورته ولاړه وروسته ددومره مودی څخه دانجلۍ دعوٰی صحیح ده اوکه نه؟ اوپه دوهمه نکاح کی چی کم خلګ سره دعلمه شامل سوه دهغوی نکاح ختمه سوه اوکه نه؟

جواب: چی کله بل ولی اقرب په شان دپلار، نیکه، ورور نه وو نواکا ولی سو چی کمه نکاح ده وکړه هغه صحیح سوه (۲) ددوه ویشتو کالو په عمر کی ددی انجلۍ ددی نکاح څخه انکار معتبر نه دی، اودوهمه نکاح صحیح نه ده چی کمو خلګو ته دمخکی نکاح علم وو اوپه دوهمه نکاح کی شریك سوه اوپه دی کی یي کوشش وکی نودوی ګنهګار دی خو ددوی نکاح ماتي نه دی ځکه چی نکاح په مرتد کیدو اوکافر کیدو ماتیږی او دوی کافر اومرتد نه دی. فقط

په نابالغتیا کی پلار چی دانجلۍ کمه نکاح وکړه هغه صحیح ده دوهمه نکاح دبلوغ څخه وروسته نه سی کولی: سوال: (۹۵۴) یوسړی دخپلی لور نابالغی ایجاب اوقبول دخپل وراره دپاره دشاهدانو په مخکی په مجلس عام کی وکړی یعنی دمذکوره سړی سکه ورور قبول وکی اوس چی کله انجلۍ بالغه سوه نو ددی پلار ددی نکاح په بل ځای کی وکړه آیا مخکی نکاح جائز ده اوکه فاسده او دنکاح ثانی اوددغه سړی څه حکم دی؟

= ط. س. ج۳ ص۵۸). ظفیر

(۱) فإن استأذنها غير الأقرب كأجنبي أو ولي بعيد فلا عبرة لسكوتها بل لا بد من القول كالثيب البالغة الخ أو ما هوفي معناه من فعل يدل علی الرضاكطلب مهرها ونفقتها وتمكينها من الوطء ودخوله بها برضاها الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الولي ج۲ ص۴۱۳ – ۴۱۴، ط.س. ج۳ ص۲۲)، ظفير

(۲) اقرب الاولياء الابن ثم ابن الابن وان سفل ثم الاب ثم الجد ابو الاب وان علا الخ ثم الاخ الخ ثم العم لاب وام الخ (عالمگیری مصری الباب الرابع فی الاولياء ج۱ ص۲۲۵، ط.س. ج۳ ص۲۸۳). ظفير

جواب: که اولنی ایجاب اوقبول په طریقه دنکاح اوپه مجلس دنکاح کی سوی وی مخکی دشاهدانو دامخکی نکاح صحیح سوه دوهمه نکاح ددی باطله اوناجائز سوه اودا انجلۍ به مخکی خاوند ته ورکول کیږی اوددوهم خاونده دی جلاسی اومذکوره سړی چی داسی کړیدی هغه دی توبه وکاږی هم دا ددی گناه کفاره ده. فقط

یوی ښځی وویل زما نکاح دفلانی سره وکړه قاضی وکړل څه حکم دی: **سوال**: (۹۵۵\) سندر نومي ډمی ددری شاهدانو په مخکی دخپلی نکاح اجازه ورکړه چی زما نکاح درمضانی سره وکړه نوقاضی نکاح وتړله خوقاضی په خپلو غوږونو اجازه نه وه اوریدلی نودانکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح صحیح سوه. ([1]) فقط

دنابالغی واده ددی دمرضی څخه بغیر ولی وکړی نودا جائزدی: **سوال**: (۹۵۶\) یوه انجلۍ چی دلسو کالو په عمر ده ددی ورور ددی نکاح دنابالغی درضا څخه بغیر دیوشپږ کلن نابالغه سره کړیده ددغه وخت څخه تراوسه انجلۍ نارضا ده اودا دخپل خاوند کورته نه ځی اوس ددی انجلۍ عمر دپنځلسو کالو دی اودهلك عمر دلسو کالو دی آیا ددی انجلۍ نکاح بی طلاقه په بل ځای کی کیدی سی اوکه نه؟ دمذکوره انجلۍ دری ورونه دی په دوی کی دوه ورونه مخکی هم نارضا وه اوس هم نارضا دی.

جواب: که دورونو څخه ماسوا بل ولی اقرب ددی انجلۍ نابالغی نه وو، نوچی کم ورور په خپل ولایت ددی نکاح په کفو کی وکړه نودا صحیح ([2]) ده دنابالغی ناراضگی په شرع کی معتبره نه ده ([3]) اوترکمه چی خاوند بالغ نه وی نودده طلاق هم نه واقع کیږی ([4]) او بغیر دطلاقه به دوهمه نکاح ددی انجلۍ صحیح نه وی. ([5]) فقط

صرف دبالغی په اجازه سره نکاح صحیح ده: **سوال**: (۹۵۷\) زید خپل زوی بکر دعمر کورته ددری سړیو سره ولیږی دوی دعمر کورته ولاړل دعمر په عدم وجود کی اوبغیر دعمر

([1]) دقاضی اوریدل ضروری نه دی دهلك دطرفه کافی دی. فقط

([2]) ولو زوجها الاقرب حیث هو جاز النکاح (وفیه قبله) ولو زوجها ولیان مستویان قدم السابق (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲ – ۴۳۳، ط.س. ج۳ ص ۱۸). ظفیر

([3]) وهی نوعان ولایة ندب علی المکلفة وولایة اجبار علی الصغیرة الخ وهو ای الولی شرط صحة نکاح صغیر ومجنون الخ (ایضا ج۲ ص۴۰۷، ط.س. ج۳ ص۵۵). فقط

([4]) ولا یقع طلاق الصبی والمجنون والنائم لقوله ﷺ کل طلاق جائز الا طلاق الصبی والمجنون ولان الاهلیة بالعقل الممیز وهما عدیم العقل. (هدایه کتاب الطلاق ج۲ ص۳۳۵، ط.س. ج۳ ص۳۵۸). ظفیر

([5]) واما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۸۲ ط.س. ج۳ ص۱۳۲). ظفیر

دصریحی یاضمنی ایجاب دده زوی شبیر حسین نابالغ اودده ښځه یي شامله کړه اودعمر دنابالغی لور چی عمر یې پنځلس کاله دوی میاشتی اودولس ورځی دی په نکاح کړله، دا صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دپنځلسو کالو په عمر کی انجلۍ شرعًا بالغه ګڼل کیږي [1] او دنابالغی نکاح په خپله اجازه ددی سره صحیح ده که نکاح په کفو کی وی نوکه دانجلۍ څخه ددی مور وغیره اجازه اخیستی وی اوددی نکاح یي کړی وی ددوو شاهدانو په مخکی، نومذکوره نکاح بیا صحیح سوه [2]. فقط

دجذام والا دخاندان سره واده صحیح دی: سوال: (۹۵۸) یوه بالغه انجلۍ ده چی دزید سره په واده کولو راضی ده خودزید په خاندان کی جذام دی نونکاح کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: نکاح کول صحیح دی دفی الحال حالت اعتباردی دراتلونکو خبرو پته چاته ده نوداسی دی ونه کړل سی. فقط

دانجلۍ چپ پاته کیدل اجازه ده اوکه نه؟ سوال: (۹۵۹) (۱) که انجلۍ دنکاح اجازه په الفاظو کی ورنه کړی اوصرف سکوت وکړی نودابه اجازه شمارل کیږي اوکه نه؟

دوهمه نکاح صحیح نه ده: سوال: (۹۶۰) (۲) اوس که انجلۍ دمور یادبل چا په لمس یا دبل قریب په لمس بل ځای نکاح وکړی نودا دوهمه نکاح به صحیح وی اوکه نه؟

دپلار په نکاح تړلو باندی انجلۍ خپله رضا ښکاره کړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۶۱) (۳) انجلۍ پلار دعمر دزوی سره په نکاح تړلو ووینی اوچپ پاته سی او وروسته بیا انجلۍ دا ووایي چی څه کیدل هغه وسوه نودا نکاح ثابته ده اوکه نه؟

انجلۍ غائبه سوه نو هیڅ پروا نسته: سوال: (۹۶۲). (۴) دوی ورځی انجلۍ غائبه وه او دخپل مور سره دیو قریب کره وه نوپه نکاح کی څه فرق راغی اوکه نه؟

دنکاح کیدو څخه وروسته فسخ نه سی کیدی: سوال: (۹۶۳) (۵) سره دصحت دنکاح څخه زید دخپلی ښځی په لمسون یا دانجلۍ دمور په لمسون نکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟

دناوی بیولو حق خاوند ته دی: سوال: (۹۶۴) (۶) زید دخپلی ښځی یادبل په لمسون په نکاح دناراضه کیدو سره سره انجلۍ دخاوندسره تللو ته پر نه پرېښوولو باندی ولاړۀ نو

---

[1] بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ والجاریة بالاحتلام والحیض والحبل فان لم یوجد فیهما شيء حتی یتم لکل منهما خمس عشرة سنة به یفتی لقصر اعمار اهل زماننا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحجر فصل بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲، ط.س. ج۳ ص۱۵۳). ظفیر

[2] فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضاء ولی الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۷، ط. س. ج۳ ص۵۵). ظفیر

خاوند ته دمطالبې حق شرعی سته او که نه؟

جواب: ۱. دانجلۍ چپ پاته کیدل په دی موقع کافی دی او اجازه ده، کذافی الدرالمختار ([1])

۲\ ۲. دوهمه نکاح به صحیح نه وی ([2]).

۳\ ۳. دانجلۍ داویل هم اجازه ده اوزید خوپه خپله ناکح ته حکم دنکاح تړلو کړی دی دده اجازه ښکاره ده.

۴\ ۴. هیڅ خلل نه راځی.

۵\ ۵. نه سی فسخ کیدی.

۶\ ۶. چی کله معلومه سی چی نکاح صحیح ده نوخاوند ته حق دبیولو سته.

<u>دنابالغی نکاح چی دپلار په اجازه وسی خوقبول صرف نابالغ وکړی څه حکم دی؟</u> سوال:

(۹۲۵\) زید دخپل زوی دجنج تیاری وکړه اودعمر سره دخالد کورته ولاړی ټول خلګ په مجلس دنکاح کی جمع وه، اوملاته یې وویل چی زما دزوی نکاح دخالد دلور سره وکړه نوملاپه اجازه دزید نکاح دعمر وکړه اوزید په وخت دایجاب اوقبول حاضر وو خو قبول عمر نابالغ غیر عاقل وکی په وجود دخپل پلار کی نونکاح وسوه او که نه؟

جواب: نکاح شرعا صحیح ده ځکه چی دپلار رضاء اواجازه دلالةً معلوم دی. فی الدر المختار: ویثبت الاذن دلالةً ([3]) وفیه ایضا وما تردد من العقود بین نفع وضرر کالبیع والشراء توقف علی الاذن الخ فان اذن لهما الولی فهما فی شراء وبیع کعبد ماذون فی کل احکامه ([4]) وفیه ولا یتزوج الا باذن الخ من کتاب الماذون ([5]). فقط

<u>نیکه (دپلار پلار) دلمسی نکاح وتړله اوپلار چپ وو او رضا ؤ نو نکاح وسوه</u>: سوال: (۹۲۶\)

دزید لور په وخت دنکاح دیوولسو کالو وه دزید په عدم وجود کی دزید پلار نکاح وکړه او زید ته یې طلاع ورکړی وه چی په فلانی تاریخ نکاح ده ته راسه شریك سه زید وویل زما سره دسفر خرڅ نسته، اودی شریك نه سو څوورځی وروسته زید راغی خوده څه اعتراض ونه کی چی زما په عدم موجودګی کی ولی نکاح وسوه بیا مسافرسو ددی څخه وروسته هم پنځه شپږواره راغی خوچاته یې اشارة یاکنایةً ونه ویل چی زما په رضاسره نکاح نه ده سوی، په دی موده کی دزید پلار څلور واره انجلۍ رخصت هم کړه اوس دڅه

([1]) فان استاذنها هو ای الولی الخ فسکت فهو اذن (ایضا ج۲ ص ۴۱۰، ط.س. ج۳ ص۵۸). ظفیر

([2]) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (ردالمحتار باب المحرمات ج۲ ص ۴۸۳، ط.س. ج۳ ص۱۳۲). ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الماذون ج۵ ص۱۳۵. ط.س. ج۳ ص۱۵۲. ظفیر

([4]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الماذون ج۵ ص ۵۰ – ۱۵۱، ط.س. ج۳ ص۱۷۳. ظفیر

([5]) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۳ و۴۱۴، ط.س. ج۳ ص۲۲. ظفیر

وجه څخه زید وایي چې نکاح زمونږ په رضانه ده سوی نودوی اوس نکاح فسخ کول غواړی نودا نکاح جائزده اوکه ناجائز؟

جواب: دا نکاح چې نیکه کړیده صحیح سوه اوس فسخ کیدی نه سی دپلار رضاء دلالةً موجوده سویده په شامی کی دی: فللولی الاعتراض ما لم یرض صراحةً اودلالةً [1] ددی څخه معلومه سوه چې دلالةً رضا په شان دصریحی رضاده اوپه درمختار کی دی چې: وللولی الابعد التزویج بغیبة الاقرب الخ مسافة القصر واختار فی الملتقی ما لم ینتظر الکفو الخاطب جوابه [2] الخ. نوپه دی صورت موجوده کی غالبًا دواړه وجه دجواز دنکاح قائم دی ددی وجه څخه زید اوس دانکاح نه سی فسخ کولی. فقط

مور دبالغی نکاح وکړه اودا دخاوند سره پاته هم سوه نکاح وسوه اوکه نه؟ سوال: (۹۲۷\)

هنده چې دپنځلسو کالو ده ددی پلار مړسو سکه اکا اومور یې موجود دی بغیر ددی درضا ه اوددی داکا څخه دپوښتنه کولو څخه بغیر صرف ددی دمور په اجازه ددی نکاح دزید سره وسوه ددرو میاشتی راهیسی دا دده په نکاح کی ده دوې میاشتی یې دخاوند سره تیری کړی اوس دخاوند په کورکی په اوسیدو راضی نه ده آیا دانکاح صحیح سوی ده اوکه نه؟ اوس دجلا کیدو څه صورت دی اوهنده دمهر مستحقه ده اوکه نه؟

جواب: خلوت اووطی که په رضا واقع سوی وی نوداهم جائز ده: کطلب مهرها ونفقتها وتمکینها من الوطی الخ درمختار [3]. نوکه داسی سوی وی نونکاح صحیح سوه اوپه پنځلسو شپاړسو کالو کی انجلۍ بالغه ګڼل کیږی اومهر که موجل دی نو ددی وصولی به په طلاق یاپه مرګ کیږی فی الحال نه سی کیدی. فقط

پلار دخپلی بالغی لور څخه په وهلو اوټکولو سره اجازه واخیسته اونکاح یې وکړه داصحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۹۲۸\) یوی کونډی ښځی ته ددی پلار وویل چې دفلانی سره ستا نکاح کوی دې انکار وکی خوددی پلار او ورور داکونډه ووهله او وټکوله اواجازه دنکاح یې ځینی واخیسته په دی صورت کی ددی کونډی نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی نکاح وسوه کمافی الشامی: اذحقیقة الرضاع غیر مشروطة فی النکاح لصحته مع الاکراه والهزل [4] الخ شامی جلد ثانی، وفی الدرالمختار: وقد نظم فی النهرمایصح مع الاکراه فقال طلاق وایلاء ظهار ورجعة نکاح مع استیلادعفو عن

---

[1] ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۳ ، ط.س. ج۳ ص۸۱. ظفیر

[2] الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲ و۴۳۳، ط.س. ج۳ ص۸۱. ظفیر

[3] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۴، ط.س. ج۳ ص۲۳. ظفیر

[4] ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۳۷۳، ط.س. ج۳ ص۲۱. ظفیر

العمد ([1]) الخ. فقط

پلار دخپلې بالغې لور دنکاح ځخه وروسته پوښتنه وکړه دانکاح منظوره ده اوکه نه لور چپ پاته سوه څه حکم دی؟ سوال: (۹۶۹) زید دخپلې بالغې لور زینب عقد دخالد سره وکی دنکاح ځخه اوه دقیقې وروسته عمر چې دانجلۍ ورور دی داوویل چې زینب انکار کوی زید بیا دزینب ځخه پوښتنه وکړه چې ته په نکاح سره راضی یې اوکه نه؟ دی په دی باندی سکوت وکی په دی صورت کی دانکاح جائز سوه اوکه نه؟

جواب: جواب دادی چې په دی صورت کی نکاح صحیح سوه. کمافی الدرالمختار: فان استاذنها هو ای الولی او وکیله او رسوله او زوجها ولیها واخبرها رسوله او فضولی عدل فسکت عن رده الخ فهو اذن ([2]). فقط

چې انجلۍ کله دبلوغ اقرار وکی نوددې په اجازه سره واده صحیح سو: سوال: (۹۷۰) یوی ډلی دپنځلسو کالو دعمرځخه دیوی یتیمی انجلۍ دمور اوانا سره مشوره وکړه په وخت دشپې یې دانجلۍ ځخه دحیض اودبلوغ اقرار واخیستی اووکالةً یې نکاح وکړه صباته دانجلۍ اکا دنکاح خبر واوریدی نوانجلۍ یې خپل کورته بوتله او دزوی سره یې په نکاح کړه په دی صورت کی انکار کول دانجلۍ وروسته داقرار ځخه به معتبر وی اوکه نه ؟ اوکمه نکاح صحیح سوه ؟

جواب: په درمختار کی دی چې دمراهقی اقرار بالبلوغ معتبر دی اوانکار بعد الاتباع معتبر نه دی: فلا یقبل جحود البلوغ بعد اقراره مع احتمال حاله، درمختار، وادنٰی مدته اثنتا عشرة سنةً ولها تسع سنین هی المختار کما فی الصفاع درمختار ([3]). نوددی وجه ځخه دا اوله نکاح صحیح سوه. فقط

مشر ورور که دخور نکاح نه کوی اوکشر ورور چې بالغ دی ویې کړی نوصحیح ده: سوال:

(۹۷۱) عمر خان مړسو ځلور زامن اوځلور لوڼې دوی ښځې یې پرېښوولې، یوه ښځه یې حامله پرېښووله چې دهغه دعمر خان ځخه وروسته لور پیدا سوه اوس دمخکنۍ ښځې ځخه یې دوه زامن اودوی انجونې دی او دوروستنی ځخه یې دوه زامن اودری لوڼې دی نو دوروستنی ښځه مشر زوی مجید خان هغه انجلۍ چې دعمر خان ځخه وروسته پیداسوی وه پنځلس کاله وروسته په خپله قبضه کی کړه او ددی دطرفه یې

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب فی المسائل التی تصح مع الاکراه ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۳۶. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۰، ط.س. ج۳ ص ۵۸. ظفیر

([3]) الدرالمختار کتاب الحجر فصل فی بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲ و۱۳۳، ط.س. ج۳ ص ۵۴. ظفیر

مقدمه پرمخکنی ښځه اوپر وروستنی ښځه چي وارثه وه وکړه اوتقریبا دپنځوسو زرو روپو جائیداد یي حاصل کی، اوس دانجلۍ عمر پنځه ویشت یا دیرش کاله دی، سره دمطالبی مجید خان دانجلۍ ورور دخپل فائدی په غرض ددې واده نه کوی، په داسی صورت کی دانجلۍ دوهم ورور چی دمجید خان څخه کشر دی هغه دانجلۍ نکاح کولی سی اوکه نه؟ مجید خان دانجلۍ سره خبروته هم څوك نه پریږدی چی ددی رضا معلومه سی په داسی حالت کی څه باید وسی؟

جواب: دمجید خان دوهم ورور که ځوان اوبالغ وی نودی انجلۍ ته دی اطلاع ورکړی ددی نکاح کولی سی خوچی انجلۍ بالغه ده نوددی څخه اجازه اخیستل ضروری دی او ددی پټه خوله کیدل کافی دی اودابه اجازه ګڼل کیږی، که دنکاح کیدو څخه وروسته چی کله خبر انجلۍ ته ورسیدی اودا انکار ونه کړی یعنی رضامندی ښکاره کړی اوچپ پاته سی نودا نکاح به صحیح وی ([1]). فقط

دښځی په اجازه سره دګونګي سره نکاح صحیح ده: **سوال**: (۹۷۲) دیو ګونګي سره دیوی ښځی نکاح کیدله ښځه خواول نه وه رضاء خو دډیر بحث څخه وروسته ښځی وویل: ښه ده ویې کړی. نونکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: چی کله بالغی ښځی وویل چی ښه ده نکاح وکړی دګونګي سره اونکاح وسوه یعنی ایجاب اوقبول ددوو شاهدانو په مخکی وسو نودا نکاح صحیح سوه او دګونګي قبلول په اشاره سره کیدی سی. فقط

دبالغی انجلۍ څخه اجازه وانه خیستل سوه اونکاح وسوه دانجلۍ خوښه نه ده څه حکم دی؟

سوال: (۹۷۳) سید محمد صاحب دخپلی بالغی لور نکاح بی ددی داجازته دیوسړی سره وکړه انجلۍ سخته خپه سوه اوخفه ده داهیڅکله نه غواړی چی دده سره نکاح سوی وای دانجلۍ نوم یوسف زمان عرف (جیا) دی نکاح ددی پلار صرف دجیا په نامه سره کړیده دانکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دانجلۍ پلار لره دخپلی ښځي یعنی دانجلۍ دمور څخه داجازه اخیستو ضرورت نسته خوچی انجلۍ بالغه ده نوانجلۍ ته اطلاع ورکول اواجازه اخیستل ضروری دی په اطلاع کولو که انجلۍ سکوت وکی اونکاح یي ردنه کړه نونکاح منعقده سوه که څه هم په زړه کی انجلۍ خفه وی خوچي په اطلاع کیدو خاموشه سی نونکاح منعقده سوه اوکه انکار وکړی نونکاح به باطله نه وی، پلار که صرف دجیا نوم اخیستی دی نوبیا هم نکاح

([1]) لا تجبر البالغة البكر على النكاح لانقطاع الولاية بالبلوغ فان استاذنها هو الخ او وكيله الخ فسكتت الخ فهو اذن الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۰۴۱۰، ط.س. ج۳ ص۵۸). ظفير

وسوه (۱). فقط

دکونډې بالغې په نکاح کې دپلار حاضرې ضرور نه ده: سوال: (۹۷۴) دکونډې هندې مور او پلار موجود دې نو ددوی په غیرِ حاضرې کې نکاح جائزده اوکه نه؟ آیابې دمرضې دکونډې ښځه ددې نکاح جائز کیدی سی؟

جواب: دمور او پلار حاضرې دکونډې بالغې دنکاح دپاره ضروری نه ده خوبې درضاء دبالغې ددې نکاح صحیح نه ده (۲). فقط

دزور نکاح چې ښځې قبوله کړې نه وې صحیح نه ده: سوال: (۹۷۵) یوه ښځه بالغه چې څو سړو په زوره دکور څخه وایستله اودیو سړې سره یې په نکاح کړه په حضور ددوو شاهدانو دانکاح صحیح ده اوکه ناجائز؟ او ددې ښځې نکاح دبل سړې سره بې له فسخې کیدی سی اوکه نه؟

جواب: که دې بالغې ددې نکاح اجازه نه وې ورکړې اونه دنکاح څخه وروسته راضې سوې وې اونه یې اجازه ورکړې وې نودا نکاح باطله سوه. قال فی الدرالمختار: فان استأذنها غیر الاقرب کالاجنبی الخ فلاعبرة لسکوتها بل لابد من القول کالثیب البالغة (۳) الخ. اوکه دزور مطلب دا وې چې په زور او زبردستې دښځې څخه یې ایجاب اوقبول دشاهدانو په مخکې واخیستې نو ددې سره نکاح منعقده سوه: لانه یصح النکاح مع الاکراه ای الایجاب او القبول مکرها لحدیث: ثلث جدهن جد وهزلهن جد، الحدیث (۴).

بالغه کونډه خودمختاره ده لېور حقدار نه دی: سوال: (۹۷۶) دزید لور کونډه سوه نو ددې دخاوند کشر ورور ددې سره نکاح کول غواړې اوانجلۍ انکار کوی اوخلګ وایې چې حقدار ددې لېور دی دا صحیح ده اوکه نه؟ او دانجلۍ نکاح جبراً دده سره کیدی سی او که نه؟

جواب: اوس دا انجلۍ خودمختاره ده دعدې دتیریدو څخه وروسته چې دچاسره غواړې نونکاح کولی سی دچا دبندولوحق نسته ددې دخاوند دکشر ورورحق پردې نسته دخلګو

---

(۱) فان استاذنها هو ای الولی وهو السنة او وکیله او رسوله او زوجها ولیها واخبرها رسوله أو فضولي عدل فسکتت عن رده مختارة الخ فهو اذن الخ ولو استأذنها في معین فردت ثم زوجها منه فسکتت صح في الأصح بخلاف ما لو بلغها فردت ثم قالت رضیت لم یجز لبطلانه بالرد (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۴۱۰، باب الولی ج۳ ص۵۸). ظفیر

(۲) ینعقد نکاح الحرة البالغة العاقلة برضائها وان لم یعقد علیها ولی بکرا کانت اوثیبًا الخ ولا یجوز للولی اجبار البکر البالغة علی النکاح (هدایه باب فی الاولیاء ج۲ ص۲۹۳ و۲۹۴ ، ط.س. ج۳ ص۳۱۳). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۳، ط.س. ج۳ ص۲۲. ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۳، ط.س. ج۳ ص۲۴. ظفیر

ویل صحیح نه دی اونه جبراً داپه نکاح کی راوستلی سی ([1]). په فتاوٰی قاضی خان کی دی: ولایزوج البکر البالغة ابوها علی کره خلافًا للشافعی وفی الثیب لا یزوج بالاجماع.

بالغه نکاح کولی سی جبراً نکاح حرامه او باطله ده: سوال: (۹۷۷) زید دهنديِ سره نکاح وکړه چی عاقله بالغه حره اوعالمه ده، او ضروری شرائط لکه مهر وغیره يې جائز ولی دوالدینو سره مقرر کړه خو دایجاب اوقبول په وخت صرف دوه شاهدان موجود وه نوعند الحنفیة نکاح وسوه اوکه نه؟ که سویده او والدینو خپله ناراضتیا ښکاره کړه اوپه زور يې دهندی نکاح دبکر سره وکړه حال دادی چی هنده نه خلع کړیده اونه زید طلاق ورکړی دی نودبکر سره يې نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: حره عاقله بالغه په خپله نکاح کی خودمختاره ده که داخپله نکاح په خپل مرضی په کفو کی وکړی نونکاح صحیح ده اوهیڅ ولی دانه سی فسخ کولی په دی صورت کی چی کمه نکاح پلار په زوره دبکر سره وکړه باطله اوحرامه ده خوکه دابالغه خپله نکاح په غیر کفوکی بی رضا دولی څخه وکړی نودمفتی به قول پربناء دانکاح فاسده ده. قال فی الدرالمختار: هو ای الولی شرط صحة نکاح صغیر الخ لا مکلفة فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضی ولی الخ وله الاعتراض في غیر الکفو الخ ویفتی في غیر الکفو بعدم جوازه اصلا وهو المختار للفتوی لفساد الزمان الخ وفي الشامي قوله وهو المختار للفتوی وقال شمس الائمة وهذا اقرب الی الاحتیاط کذا في تصحیح العلامة قاسم ([2]) الخ ص۲۹۷ ج۲. فقط

بالغه چی خپله نکاح په کفو کی وکړه صحیح ده اوپلار چی کمه په زور وکړه هغه جائزنه ده:

سوال: (۹۷۸) یوې ځوانی انجلۍ بالغی خپله نکاح دخپل قوم هلك سره ددوو شاهدانو په مخکی وکړه څه موده وروسته چی ددی پلار خبرسو نوده بی دمخکی خاوند دطلاقه څخه دبل سړی سره ددی انجلۍ نکاح وکړه دا نکاح جائزده اوکه نه؟ دانجلۍ دپلار او دنکاح تړونکی څه حکم دی؟

جواب: که دښځی دخاوند څخه علاوه دوه شاهدان مسلمانان نور موجود وه، او ددوی په مخکی نکاح وسوه نودا نکاح صحیح ده اودپلار دوهمه نکاح بی له مخکنی خاوند دطلاقو څخه صحیح نه ده ([3])، اوچي پلار اونکاح تړونکی سره دمخکی نکاح دعلمه بله

([1]) ولا یجوز للولی اجبار البکر البالغة علی النکاح الخ لانها حرة فلایکون للغیر علیها ولایة الاجبار (هدایه باب الاولیاء ج۲ ص۲۹۴، ط.س. ج۳ ص۳۱۳). ظفیر

([2]) وګوری ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۷. ط.س. ج۳ ص ۵۵. ظفیر

([3]) ولا یجوز للولی اجبار البکر البالغة علی النکاح الخ لانها حرة فلا یکون للغیر ولایة الاجبار (هدایه باب الاولیاء ج۲ ص۲۹۴، ط.س. ج۳ ص۳۱۳). ظفیر

نکاح وکړه نودوی ګنهګار سوه توبه دی وکاږی اونکاح ددی معلم وغیره ماته نه سوه.

بالغی چی کله دوارثانو نکاح ردکړه نودا نکاح صحیح نه ده: سوال: (۹۷۹\۱) دیوی بالغی انجلۍ نکاح بغیر ددی انجلۍ درضا څخه ددی مور اونورو وارثانو وکړه چی کله انجلۍ ته خبر ورسیدی نوداپه ژړا او انګولا خپل کورته راغله او وی ویل چی ماته دانکاح منظوره نه ده نودا نکاح وسوه اوکه نه؟

که داجازې شاهدی نورخلک ورکړی نو؟ سوال: (۹۸۰\۲) قاضی نکاح تړونکی اولس شل کسان شاهدی ورکوی چی انجلۍ اوددی وارثانو اجازه ورکړه بیا نکاح وسوه انجلۍ وایي چی ما اجازه نه ده ورکړی اوداکار په زور سویدی نوپه قاضی پسی لمونځ جائزدی اوکه نه؟ اونکاح دده پاته ده اوکه نه؟ او دشریکانو دنکاح دپاره څه حکم دی؟

جواب: \۱. دانکاح باطله سوه. (۱)

۲\ . که دانجلۍ داجازه ورکولو ثقه او معتبر شاهدان موجود وی نو اجازه دانجلۍ ثابته سوه اوانکار ددی انجلۍ معتبر نه دی اونکاح وسوه. فقط

دبالغی ولی ماما او ترور نه دی: سوال: (۹۸۱\) یوه انجلۍ ده چی دهغې عمر پنځلس کاله دی اوددی دکوچنۍ خور عمر اوه کاله دی او ددوی مور اوپلار مړه دی چی دمور اوپلار دنژدی قریبو دنه موجودوالي په وجه ماما اوترور مذکوره انجوني دواړي دخپل ځان سره راوستی چی دانجلۍ کوزده یي دیو سړی سره وکړه وروسته بیا یوسړی ددری سوو روپو ورکوونکی پیداسو ماما اوترور مخکنی شخص ته انکار وکړی او دزیاتو پیسو ورکوونکي والا سره یي عقد شرعی وکی آیا انجلۍ داسی کولی سی اودکوچنۍ انجلۍ ولی ماما اوترور دی اوکه مشره خور ده؟

جواب: چی کله دامشره انجلۍ بالغه ده نودی چی په رضاسره په خپل کفوکی نکاح وکړه نوهمدغه نکاح صحیح (۲) ده، دماما اودترور څه اختیار اوولایت په دی نسته او دکوچنی انجلۍ ولی ددی مشره خورده ماما اوترور (مامي) ددی هم ولی نه دی (۳). فقط

دلسوکالو انجلۍ چی کله ووایي زما حیض راځی نو دابه ومنل سی او ددی نکاح به ددی په

---

(۱) لا یجوز نكاح أحد علی بالغة صحیحة العقل من أب أو سلطان بغیر إذنها بكرا كانت أو ثیبا فإن فعل ذلك فالنكاح موقوف علی إجازتها فإن أجازته جاز وإن ردته بطل (عالمگیري مصطفائي باب رابع في الاولیاء ج۲ ص۱۳، ط. ماجدیة ج۱ ص۲۸۷). ظفیر

(۲) فنفذ نكاح حرة مكلفة بلاولی (عالمگیری مصطفایي باب الاولیاء ج۲ ص۱۳. ط.س. ج۳ ص۲۸۷). ظفیر

(۳) الولی فی النكاح العصبة بنفسه بلاتوسط التی علی ترتیب الارث والحجب الخ فان لم یكن عصبة فالولایة للام الخ ثم للاخت لاب الخ ثم لذوی الارحام العمات ثم الاحوال ثم الخالات (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الاولیاء ج۲ ص۴۲۷ – ۴۳۰ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر

مرضی کیږی: **سوال**: (۹۸۲\) دلسو کالو دانجلۍ نکاح ددی نیکه وکړه دیته چی خبر ورکول سو نودی انکار ښکاره کړی چی زه بالغه یم پرماحیض راځی، نوآیا ددی په انکار سره نکاح فسخ کیږی اوکه نه؟ اوددی دبلوغ ثابتیدلو دپاره ددی قول معتبردی اوکه نه دشاهدی ضرورت سته؟

جواب: په درمختار کی دی چی: وادنٰی مدته له اثنتی عشرة سنةً ولها تسع سنین الخ فان راهقا بان بلغا هذا السن فقالا بلغنا صدقا ان لم یکذبهما الظاهر (۱) الخ. ددی عبارت څخه معلومه سوه چی دانجلۍ مراهقی قول په باره دبلوغ کی معتبر دی که دقرائینو څخه ددی کذب ښکاره سوی نه وی (اوچی کله دی دنکاح څخه انکار وکی نودا صحیح نه سوه). (۲) فقط

پلار هم دبالغی انجلۍ نکاح داجازی بغیر نه سی کولی: **سوال**: (۹۸۳\) بالغه هنده او دهندی مور داغواړی چی دهندی نکاح په بل ځای کی وسی اودهندی پلار راضی نه دی که دا هنده په وجه دجګړی بل کلی ته ولاړه سی نوپه داسی حالت کی دهندی په عدم موجودګی کی پلار ددی نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دبالغی نکاح په خپله ددی په اجازه سره کیدی سی چی کله دا په کفو کی نکاح وکړی او ددی پلار بغیر ددی داجازی څخه ددی نکاح نه سی کولی (۳). فقط

بالغ هلک اوانجلۍ چی دیو کفو دی نوبی مور اوپلار داجازی څخه نکاح کولی سی؟ سوال: (۹۸۴\) دپوره څلور ویشتو کالو دهلك دوستي داوولسو کالو دانجلۍ سره وسوه څه موده وروسته درضا څخه پرته دهلك واده په بل ځای کی وسو، دیوې وجه څخه هلك په وخت دنکاح کي انکار ونه کړی سوای خو دمخکنۍ انجلۍ سره دده محبت باقی وو او دهلك څخه ناجائز فعل وسو اوپه عشق کی یي کمی رانغله دادواړه عثمانی دی که دواړه قتل سی نوبی ځایه حرکت نه دی؟ اوکه نه ددواړو واده وسی نودچا چا رضا کیدل پکار دی؟

جواب: مړه کول ددوی جائزنه دی اودوهمه نکاح ددې هلك ددې انجلۍ سره کیدی سی نکاح دی وسی اوچی کله انجلۍ داوولسو کالو ده نودا بالغه ده ددی په رضا ددی نکاح دمذکوره خاوند سره کیدی سی اوچی (۴) دا دواړه هلك اوانجلۍ هم قوم اوهم کفودی نو

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الحجر فصل بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲، و۱۳۳. ط.س. ج۳ ص۱۵۴. ظفیر

(۲) ینعقد نکاح الحرة العاقلة برضاءها وان لم یعقد علیها ولی بکراً کانت او ثیباً (هدایه باب الاولیآء ج۲ ص۲۹۳، ط.س. ج۳ ص۳۱۳). ظفیر

(۳) و (۴) اذ حقیقة الرضا غیرمشروطة فی النکاح لصحته مع الاکراه والهزل (الی قوله) لواکرهت علی ان تزوجته =

که دانجلۍ دمور اوپلار اجازه هم نه وی بیاهم نکاح کیدی سی او که مور او پلار یې راضي وی خو ډیره ښه ده. فقط

که دبالغې ښځه په زوره اقرار واخیستل سی نونکاح به وسی: **سوال**: (۹۸۵\) که انجلۍ بالغه ده ددی رضانه ده که ددی ښځه په څه طریقه سره اقرار واخیستل سی نونکاح به وسی اوکه نه؟

جواب: نکاح کیږی اوښځې ته اختیار دفسخې دنکاح نسته اودخاوند کورته په نه تللو سره هم نکاح نه ماتیږی قال ﷺ : ثلث جدهن جد وهزلهن جد النکاح والطلاق والعتاق الحدیث اوکما قال ﷺ ([1]). فقط

دپلار په عدم وجود کې دنابالغې نکاح نیکه وکړی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۹۸۶\) یوسړی دخپلې نابالغې لمسۍ نکاح دخپل زوی یعنی دانجلۍ دپلار په عدم وجود کې وکړه نو نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دصغیره پلار چې کله موجود نه وی اودومره لیری وی چې دده په انتظار کې دکفو دفوت کیدو بیره وی یعنی دی انتظار نه سی کولی نونیکه دصغیری ولی دی او دده سوی نکاح صحیح ([2]) ده. فقط

لیری ولی نکاح وکړه اونږدی ولی انکار وکی څه موده وروسته یې اجازه ورکړه نوڅه حکم دی ؟ **سوال**: (۹۸۷) دیوې نابالغې انجلۍ نکاح ددې دمور او دسکه نیکه ورور دانجلۍ دسکه اکا ښځه په پټه چې په ښار کې وو نکاح وکړه اودی یې ددی نکاح ښځه بې خبره وساتی وروسته چې دانجلۍ اکاته دنکاح حال معلوم سو نوده نامنظوره کړه خوڅو ورځې وروسته راضي سو نودا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کې چې کله سکه پلار اونیکه موجودنه وو نواکا دنابالغې ولی دی مور اودنیکه ورور ولی نه دی نوچې کله اکا دنکاح دخبر په اوریدو سره انکار وکی نودا نکاح فسخ سوه اوپه وروسته راضي کیدو سره دافسخ سوی نکاح نه صحیح کیږی ([3]).

= بالف ومهر مثلها عشر الاف زوجها اولیاء مکرهین فالنکاح جائز الخ (ردالمحتار ص۳۷۲ ج۲ کتاب النکاح، ط. س. ج۳ ص۲۱). ظفیر

[1] والولی الابعد التزویج بغیبة الاقرب مسافة القصر وفی الملتقی مالم ینتظر الکفو الخاطب جوابه (درمختار) فلوکان الغائب اباها ولها جد وعم فالولایة للجد (ردالمحتار باب الولی ج۴ ص۴۳۲، ط.س. ج۳ ص۸۱). ظفیر

[2] فلوزوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازاته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲. ط.س. ج۳ ص ۸۱) بخلاف ما لو بلغها فردت ثم قال رضیت لم یجز لبطلانه بالرد (ایضا ج۲ ص۴۱۲، ط.س. ج۳ ص ۲۰). ظفیر

[3] لهما خیار الفسخ بالبلوغ اوالعلم بالنکاح بعده الخ بشرط القضاء للفسخ (درمختار ج۳ ص۲۹) حاصله انه =

نژدې ولي لیرې وي اوډکفو ددوستۍ، دفوت کیدو بیره وي نو لیرې ولي نکاح کولی سي:

سوال: (۹۸۸/۱) درمضانو نومي انجلۍ پلار مولا بخش مسافر وو ددې مور ددې نکاح وکړه نودا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟ رمضانو دبلوغ څخه وروسته دانکاح فسخ کولی سي اوکه نه؟

جواب: درمضانو نژدې ولي په دې صورت کې ددې پلار مولا بخش دې اوپه صورت دنه موجودیدو کي دنژدې عصباتو مورهم دنابالغه دنکاح ولي کیدی سي نوکه مولابخش ډیر لیرې وو اودده څخه په اجازه غوښتو کی دحاضر کفو دفوت کیدو بیره وه نودوالده په اجازه سره دنابالغه نکاح صحیح ده اوپه دې حالت کې چې نکاح دنابالغې دپلار او دنکاح څخه علاوه بل ولي وکړي نوانجلۍ ته دبلوغ څخه وروسته دنکاح اختیار وي خو ددې فسخې دپاره قضاء دقاضي شرعي شرط ده چې کم په دې زمانه کې مفقود دی ددې وجه څخه حکم به کیږي چې دمور تړلې نکاح په معتبر غیبوبت دپلار سویده صحیح ده او بغیر دقاضي دقضاء څخه فسخ کیدی نه سي (۱). فقط

پلار مفقود الخبر وي نواکا نکاح کولی سي اوکه نه؟ او داکا دا نکاح پلار ماتولی سي اوکه نه؟

سوال: (۹۸۹/۱) که دنابالغه پلار مفقود الخبروی او ورونه دپلار چې موجود دي ولایت دنکاح دنابالغې دغه ورونو دپلار ته سته اوکه نه؟ اودده نکاح چې ده دپلار په غیبوبت کې کړې چې که پلار راسی نودا نکاح فسخ کولی سي اوکه نه؟

جواب: کله چې پلار مفقود وي نو ورونو ته ولایت دنکاح سته دنابالغې، اوهغه نکاح چې په دې شان وسي نوپلار دبیرته راتلو څخه وروسته نه سي فسخ کیدی.

دنابالغې نکاح پلار دلالچ په وجه په غیر کفوکې کوي نودا جائزده اوکه نه؟ **سوال:** (۹۹۰) که پلار دخپلې نابالغې لور نکاح په غیر کفو کې بې درضامندی دخاندان او دقریبانو په طمع دنفس دوجه څخه وکړي نودا نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دنابالغې ولي په دې صورت کې ددې پلاردی اوکه پلارپه غیر کفوکې هم دخپلې لور نابالغې نکاح وکړي نوصحیح ده خوشرط دادی چې پلار معروف به سوء الاختیار نه وی یعنې چې په بدخواهی سره دانجلۍ نقصان نه کوي. هکذا في الدرالمختار (۲). فقط

= اذا کان المزوج للصغیر والصغیرة غیر الاب والجد فلهما الخیار بالبلوغ او العلم به فان اختار الفسخ لا یثبت الفسخ الا بشرط القضاء (ردالمحتار باب الولي ج۲ ص۴۲۱، ط.س. ج۳ ص۷۰). ظفیر

(۱) وللولي الابعد التزویج بغیبة الاقرب الخ ولایبطل تزویجه السابق بعود الاقرب لحصوله بولایة تامة (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الولي ج۲ ص ۴۳۲ – ۴۳۴، ط.س. ج۳ ص۸۳). ظفیر

(۲) ولزم النکاح ولو بغبن فاحش اوزوجها بغیر کفو ان کان الولي ابا اوجدا لم یعرف منها سوء الاختیار مجانة =

دنابالغی پلار دتینګار دوجه نکاح وکړی نو دابه صحیح وی اوکه نه؟ سوال: (۹۹۱) یوسړی دخپل زوی ددوستئ خبره دیوسړی سره کوله چی دده ښځه اوقریبان ناراض وه یو وخت په ځنګل کي څلور سړی سره یوځای سول اوهلك یي دځان سره راوستی او انجلئ والا یي را وغوښتی او زور یې باندی واچوی اونکاح یي وکړه نودا نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت چی کله دنابالغی انجلئ پلار دخپلی نابالغی لور نکاح وکړه نو دا نکاح وسوه که څه هم پلار دخلګو په ټینګار سره نکاح کړی وی نواوس دانکاح نه سی فسخ کیدی. ([1]) فقط

دنابالغی انجلئ نکاح چی دولیانو په ذریعه وسوه اوس دوباره نکاح ته ضرورت نسته: **سوال**: (۹۹۲) دنابالغه هلك چی عمر یي شپږ کاله دی او دنابالغی انجلئ چی عمر یي پنځه کاله دی ددوی نکاح وتړل سوه خوهلك اوانجلئ کلمه نه سوه ویلی اولفظ دقبول یي هم صحیح نه سو ویلی نوپه دی صورت کی دبلوغ څخه وروسته ددوهمی نکاح ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: چی کله دادواړه هلکان دمسلمان اولاد دی نوپه وخت دنکاح ددوی کلمه ویل ضروری نه دی اونه ددوی ایجاب اوقبول معتبردی بلکی ددوی دولیانو په ایجاب وقبول نکاح منعقد کیږی او دبلوغ څخه وروسته ددوهمی نکاح ضرورت نسته ([2])، اوکه دغه وخت ولیانو ایجاب اوقبول نه وی کړی صرف ماشومانو کړی وی نواوس تجدید دنکاح ضروری دی (چی کله خپله ولیانو پر ووایه نو دا دلیل دی چي دوی دخپلي رضا څخه وروسته داسي کړیدی یا ددوی په حکم سویدی یاپه اجازه سره، او دولي دومره قدر ویل په ایجاب وقبول کی کافی دی ددی وجه څخه زموږ په ملك کی رواج دادی چی دلور پلار قاضي ته وايي چی زما دلور ددوی ددې هلك سره نکاح وکړه دهلك پلار زوی ته ووايي چی بچیه ووایه ماقبوله کړه اودی په خپله دمجمع په مخکی وايي ما قبوله کړیده، والله اعلم، ظفیر)

دنابالغی نکاح بی دولی درضاڅخه صحیح نه ده البته بالغه یې په خپله مرضیسره کولی سی:

سوال: (۹۹۳) دانجلئ عمر دیارلس یاخوارلس کاله دی ددی پلار اونیکه ژوندی دی

= وفسقا ان عرف لا (درمختار) وفی شرح المجمع حتی لوعرف من الاب سوء الاختیار لسفهه اولطمعه لایجوز عقده اجماعًا (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۷۸ ، ط.س. ج۳ ص ۶۶). ظفیر

([1]) فان زوجهما الاب والجد یعنی الصغیر والصغیرة فلاخیار لهما بعد بلوغهما لانهما کاملا الرای وافر الشفقة (هدایة کتاب النکاح باب الولی فی الاولیاء ج۲ ص۲۹۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳۱۷). ظفیر

([2]) وللولی نکاح الصغیر والصغیرة جبراً ولو ثیباً ولزم النکاح ولو بغبن فاحش (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۷ ، ط.س. ج۳ ص۶۵). ظفیر

نیکه اواکا یې مشوره وکړه او ددی انجلۍ نکاح یې پټه وکړه او مخکی ددی انجلۍ رشته ددی پلار بل ځای کړی وه آیا دپلار داجازی څخه بغیر دارشته بل ځای کیدی سی؟

جواب: که انجلۍ بالغه وی مثلا دې ته حیض راغی، نوپه خپله دانجلۍ په اجازه سره ددی نیکه اکا وغیره ددی نکاح کولی سی اونکاح صحیح ده اوکه انجلۍ نابالغه ده لکه چی ددی دعمر څخه ښکاره کیږی نوبغیر ددی دپلار داجازی څخه نیکه اواکا یې په موجودګی دپلار کی نه سی کولی اودا نکاح به دپلار پراجازه موقوفه وی که دی یې جائز کړی نوصحیح به وی اوکه انکار وکړی نوباطله به وی (۱) او دانجلۍ دبالغیدو علامه حیض وغیره دی اوکه داسی څه علامه ښکاره نه سوه نو دپنځلسوکالو په عمرکی به بالغه وی. فقط

داکا زوی ولی دی دهغه په وجود کی انا (دمور مور) ولی نه سی کیدی: **سوال**: (۹۹۴\) ایا دنابالغانو انا چی نه صرف انا ده وصی اوقائم مقام دوصی دنابالغانو دمړ پلار دطرفه ده یعنی وصیت یې کړی وو اومړ سوی وو چی انابه دنابالغو پالنه کوی اوویلی وه چی زما دمرګ څخه وروسته به ته ددوی ولی یې په داسی صورت کی چی انا پر منزله دقائم مقام ده ددې په مقابله کی دنابالغانو داکا زوی ته په ولی کیدو دنابالغانو کی ورلره ترجیح ورکول کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کی داکا زوی دنابالغانو ولی دی انا ولی نه ده که څه هم چې هغه وصی وی (۲). فقط

دانجلۍ پلار دیو سړی سره یې نکاح نه خوښوی دپلار مور اصرار کوی نوڅه حکم دی؟ سوال:
(۹۹۵\) دزید مور دزید دلور نکاح دخالد سره کول غواړی چی دازید دمصلحت سره موافق نه ګڼی که زید دمور په وینا عمل ونه کړی نوګنهګار خوبه نه وی؟

جواب: په دی صورت کی ولی دنکاح دلور زید دی په شریعت کی زید ته دلور دنکاح ولایت خپله حاصل دی نوکه زید دخپلی لور نکاح دخالد سره مصلحت نه ګڼی اودلور په حق کی داکار ده ته ښه نه ښکاری نودلور مصلحت دی مخکی کړی اونکاح دی نه کوی او دمور درایې په خلاف پرده څه مواخذه نسته اوزید به دده دمور نافرمانه نه وی. فقط

---

(۱) فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (درمختار ط.س. ج۳ ص۸۱) فلایکون سکوتها اجازة لنکاح الابعد وانکان حاضرا فی مجلس العقدمالم یرض صریحا اودلالة (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲ - ۴۳۳ ، ط.س. ج۳ ص۸۱). ظفیر

(۲) الولی في النکاح لا المال العصبة بنفسه علی ترتیب الارث والحجب (درمختار) ثم یقدم الاب ثم ابوه ثم الاخ الشقیق ثم الاب الخ ثم ابن الاخ الشقیق ثم الاب ثم العم الشقیق ثم الاب ثم ابنه (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷ - ۴۲۸ ، ط.س. ج۳ ص۷۲). ظفیر

دکوزدې څخه وروسته انجلۍ بالغه سوه اودلته دواده څخه انکار کوی څه حکم دی؟ سوال: (۹۹۶) یوسړی دخپلی لور کوزده او وعده دیوسړی سره کړی وه اوس انجلۍ ځوانه سوه داوعده او کوزده ورته نامنظور دی نوشرعا څه حکم دی؟

جواب: دانجلۍ په ځوانیدو اوبالغیدو باندی بغیر ددی درضامندی څخه ددی نکاح به جائز نه وی نوچی کله انجلۍ ددی سړی سره په نکاح کولو راضی نه ده چی دچا سره یې پلار وعده کړی وه اوکوزده یې کړی وه نوپلار لره پکاردی چی هلته یې نکاح ونه کړي، اوکه ده بی درضا دلور څخه داسی وکړل نودا نکاح به جائزنه وی (۱). فقط

پلار چی دنابالغی نکاح کم ځای وکړی صحیح ده: سوال: (۹۹۷) زید خپلی ښځی ته طلاق ورکی ددی څخه یې یوه کوچنی لوروه دزید دخپلی ښځی اودلور سره یوقسم دښمنی ده، ده فوراً دانجلۍ واده په غیبوبت کی په پټه وکړی په داسی صورت کی زید دخپلی لور نکاح بغیر درضادمور څخه کولی سی؟ اودا نکاح صحیح ده؟ سره ددی چی دزید نیت بدوو اوپه نفسانی طمع یې روپی وغیره هم اخیستی وی نوزید دانجلۍ ولی کیدی سی؟ او دده سوی نکاح جائزده؟ آیا زید دلور نکاح په داسی ځای کی کولی سی چی کم ځای دانجلۍ دینی او دنیاوی نقصان متصور وی اودا نکاح باقی پاته کیدی سی؟

جواب: چی کله دا انجلۍ نابالغه ده نوولایت دنکاح دنابالغی په دی صورت کی دپلار سره دی پلار دمور درضا څخه بغیر ددی نکاح کولی سی اودا نکاح به صحیح وی او دنیت حال چی معلومیدی نه سی ددی وجه څخه پردی مدار دولایت اودنه ولایت نه سی کیدی، شریعت پلار دانجلۍ خیر خواه گڼی ددی وجه څخه فقهاء لیکی چی که پلار دلور دنابالغی نکاح په غیر کفوکی هم وکړی اومهر دمهر مثل څخه کم کیږی نوبیا هم نکاح صحیح ده (۲). فقط

مور یا ورور چی په غیر کفو کی نکاح وکړی نودا جائزده اوکه نه؟ سوال: (۹۹۸) دیوی انجلۍ نکاح ددی مور اوورونو په غیر کفوکی وکړه که دپلار دنکاح څخه ماسوا څوك دانجلۍ نکاح په غیر کفوکی وکړی نودا نکاح منعقد ده اوکه نه؟ اوپه دی صورت کی نکاح وسوه اوکه نه؟

---

(۱) ولا تجبر البالغة البکر علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۰، ط.س. ج۳ ص۵۸). ظفیر

(۲) وللولی نکاح الصغیر والصغیرة جبراً ولو ثیباً ولزم النکاح ولو بغبن فاحش بنقص مهر وزیادة مهره او زوجها بغیر کفو ان کان الولي الخ ابا اوجدا ولم یعرف منهما سوء الاختیار مجانة وفسقا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۷ ، ط.س. ج۳ ص۶۶). ظفیر

جواب: په درمختارکی دی: وان کان المزوج غیرهما الاب او ابیه ولو الام او القاضی او وکیل الاب الخ لا یصح النکاح من غیر کفو او بغبن فاحش اصلا [۱] الخ. ددی عبارت څخه واضحه سوه چی ورونو اومور چی کمه نکاح ددی انجلۍ په غیر کفوکی کړیده صحیح نه ده. فقط

داکا زوی چی ولی دی خپل ځان ته یی په نکاح کړی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۹۹۹) یوه نابالغه انجلۍ چی دهغه والدین اوبل وارث داکا دزوی څخه ماسوا نسته چی هغه ددی پالنه کړیده دانجلۍ دنابالغتیا په وخت کی ددی اکا زوی په خپل ولایت سره ددی انجلۍ نکاح دخپل ځان سره کړیده نودا نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: چی کله نژدی ولی ددی انجلۍ هم دغه داکا زوی دی نودخپل ځان سره ددی نکاح کول صحیح دی. کذافی کتب الفقه [۲] (ولابن العم ان یزوج بنت عمه الصغیرة من نفسه فیکون اصیلا من جانب ولیا من اٰخر، الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النکاح ج۲ ص۴۹۴ ظفیر).

نابالغه دنکاح ولی نه سی کیدی دده سوی نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۱۰۰۰) دیوی یتیمی نابالغی انجلۍ دوه سکه اکاګان په سفرکی وه، ددریم مړ اکا نابالغه زوی دخپل اکا دلور نکاح په غیر خاندان کی وکړه دنکاح څخه مخکی چی کله دوی ته خبر وسو نودوی په ذریعه دخط انکار وکی اواوس هم دانکاح نه منظوروی آیا نابالغه دخپل اکاپه وجود کی ولی کیدی سی؟

جواب: نابالغه په هیڅ شان اوحال کی هم ولی کیدی نه سی نوددی وجه څخه مذکوره نکاح صحیح نه سوه [۳] ددی نابالغی په دی صورت کی دواړه اکاګان هریو ددی ولی دی اوداکاپه وجود کی داکا زوی ولی نه دی. فقط

ورور ولی دی دده داجازی څخه بغیر اکا ولی نسی کیدی: **سوال**: (۱۰۰۱) زید خپل حقیقی اکاته دخپلودووخوندو دنکاح اجازه ورکړه اکا ددوی دنکاح څخه وروسته دنورو دوو خوندونکاح بغیرداجازی دزیدڅخه دخپلوزامنوسره وکړه نوددی دواړونکاح صحیح

---

[۱] الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۹، ط.س. ج۳ ص ۶۷. ظفیر

[۲] الولی فی النکاح العصبة بنفسه علی ترتیب الارث والحجب فیقدم ابن المجنونة علی ابیها لانه یحجبه حجب نقصان (درمختار) ثم یقدم الاب ثم ابوه ثم الاخ الخ ثم العم الشفیق ثم ابنه الخ کل هؤلآء لهم اجبار الصغیرین (رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۸، ط.س. ج۳ ص۷۶). ظفیر

[۳] بشرط حریة وتکلیف (درمختار) واحترز بالحریة عن العبد الخ وبالتکلیف عن الصغیر الخ علل الزیلعي عدم الولایة لمن ذکر بانهم ولا ولایة لهم علی انفسهم فاولی ان لا یکون لهم ولایة علی غیرهم لان الولایة علی الغیر فرع الولایة علی النفس (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۸، ط.س. ج۳ ص۷۷). ظفیر

ده او که نه؟

جواب: دوروستنیو دوو خوندو دزید نکاح پراجازت دزید موقوفه ده که زید ددوی نکاح جائز وساتله نونکاح به صحیح وی اوکه انکار یې وکی نوباطله به وی ([1]). فقط

چې عصبات نه وی نو ولایت دنکاح مور ته دی: **سوال**: (۱۰۰۲) یوسړی دخپلی بچندری نکاح په خپل ولایت دچا سره وکړه اوس مور ددی انجلۍ نکاح فسخ کول غواړی نوددی دعوٰی شرعًا قابل قبول ده او که نه؟

جواب: دعصباتو څخه وروسته ولایت دنکاح دنابالغی مورته دی ([2]) که دمور خاوند بی اجازته دمور څخه دنابالغی نکاح وکړی نوداپر اجازه دمورموقوفه ده چی دې انکار وکی نومذکوره نکاح فسخ سوه ([3]). فقط

دنیکه ورور او یا دده اولاد ولی کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۰۳) دنیکه ورور یا دده اولاد ولی کیدی سی او که نه؟

جواب: چی کله دوی ته نژدی عصبه نه وی نودوی ولی کیدی سی. ([4]) فقط

په پالنه حق دولایت نه حاصلیږی پلار ولی دی عمه (ترور) او ددی خاوند ولی نه دی: **سوال**: (۱۰۰۴) دیوسړی ښځه مړه سوه او دده نیمو کالو لور یې پرینښووله دا انجلۍ ددی سړی خور یووړله اوپالنه یې وکړه کله چی انجلۍ دیوولسو کالو سوه نو دانجلۍ دپلار داجازت څخه بغیر ددې نکاح عمه یا او دعمه خاوند وکړه پلار او ورور یې دغلته په نکاح کولو راضي نه دي، نوڅه حکم دی؟

جواب: عمه او دعمه خاوند ته ددې نابالغې دنکاح اختیار نسته نو دوی چي کمه نکاح وکړه دا دپلار پر اجازت موقوفه ده که پلار اجازت ورکړی نو نکاح به صحیح وي اوکه پلار انکار وکړی نو نکاح به باطله سي او دپلار په وجود کي ورور ته هم اختیار دنکاح نسته. ([5]) فقط

([1]) فلو زوج الابعد حال قيام الاقرب توقف على اجازته (درمختار) فلا يكون سكوته اجازة لنكاح الابعد وكان حاضراً في مجلس العقد ما لم يرض صريحا او دلالة (ردالمحتار باب الولي ج۲ ص۴۳۲، ط.س. ج۳ ص۸۱). ظ

([2]) فان لم يكن عصبة فالولاية للام (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الولي ج۲ ص۴۲۹، ط.س. ج۳ ص۷۲).ظ

([3]) ونكاح عبد وأمة بغير إذن السيد موقوف على الإجازة كنكاح الفضولي سيجيء في البيوع توقف عقوده كلها إن لها مجيز حالة العقد والا تبطل (درمختار) الفضولي من يتصرف بغيره بغير ولاية ولا وكالة او لنفسه وليس اهلا (ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۴۹، ط.س. ج۳ ص۹۷). ظفير

([4]) الولي في النكاح العصبة بنفسه على ترتيب الارث والحجب الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الولي ج۲ ص۴۲۷، ط.س. ج۳ ص۷۲). ظفير

([5]) الولي في النكاح العصبة بنفسه على ترتيب الارث والحجب فيقدم ابن المجنونة على ابيها (درمختار) ثم =

ماماته دعصباتو او دذوی الفروضو څخه وروسته ولایت حاصليږي: **سوال**: (۱۰۰۵\) دیوه نابالغه هلك او انجلۍ نکاح دماما په ولایت سره وسوه اوایجاب اوقبول يي باندی وکی نو جائزده اوکه نه؟

جواب: که دنابالغو نکاح ددوی شرعی ولی چی ده ته ولایت دنکاح حاصل دی وکړی نو دانکاح صحیح ده خوواضحه دی وی چی دسکه ماما ولایت دعصباتو اوذوی الفروضو دولایت څخه وروسته دی، چی دهغه تفصیل په کتابونو دفقه کی دی ([1]). فقط

دپلار دمرګ څخه وروسته دنکاح په باب کی دده وصیت معتبر نه دی: **سوال**: (۱۰۰۶\) یوسړی وصیت کړیدی چی زما دلور دوستي دی زما په خاندان کی ونه سی په بل قوم کی دی وسی اوس ددی انجلۍ وارث ددی اکادی ده ته ددی واده کم ځای کول پکاردی؟

جواب: دده دوصیت اعتبار نسته ولی ته اختیار دی چی په کفو کی هر ځای هم ورته مناسب ښکاری هم هلته دی نکاح وروکړی دمړی دوصیت خیال دی نه کوی ځکه چی دا وصیت معتبر نه دی. ([2]) فقط

پلار نسته نو نیکه (دپلار پلار) ولی دی بیا بل عصبه بیا دعصبه څخه وروسته مور ده: **سوال**: (۱۰۰۷\) رحیم الله دخپلی ورینداری سره نکاح وکړه ددی ښځی دمخکی خاوند څخه یوه نابالغه لورده دانجلۍ مور اجازه دنکاح ورکړه دانجلۍ نیکه (دپلار پلار) دولی جوړیدو څخه انکار وکی نوپه دی صورت کی دمور تړل سوی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی که انجلۍ نابالغه ده نوددی دنکاح ولی ددی نیکه دی که نیکه په کفوکی دنکاح کولو څخه انکار وکړی اومانع وی اوبل عصبه هم موجود نه وی نومور ته اختیار او ولایت دنابالغی دنکاح سته ([3]) ددی تړل سوی نکاح صحیح ده اوکه نیکه مانع دنکاح نه دی نودنیکه داجازی بغیر دانکاح به صحیح نه وی اوکه انجلۍ بالغه وی نوپه خپله دانجلۍ په اجازه ددی نکاح صحیح ده. فقط

په نکاح کی ولی شرط دی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۰۸\۱)په نکاح کی ولی شرط دی اوکه نه؟

= یقدم الاب ثم ابوه الخ فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولي ج۲ ص۴۲۷ – ۴۳۲ ، ط.س. ج۳ ص۷۲ و ۸۱). ظفیر

[1] الولی فی النکاح العصبة بنفسه الخ ثم لذوی الارحام العمات ثم الاخوال ثم الخالات ثم بنات الاعمام (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۰، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر

[2] لیس للوصی من حیث هو وصی ان یزوج الیتیم مطلقا وان اوصی الیه الادب بذالك علی المذهب (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۱، ط.س. ج۳ ص ۷۹). ظفیر

[3] ثم یقدم الاب ثم ابوه ثم الاخ الشقیق الخ فان لم یکن عصبة فالولایة للام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۸، ط.س. ج۳ ص۷۲). ظفیر

دهبی حکم صرف دپیغمبر دپاره دی اوکه دبل چا دپاره هم دی؟ (۲) که یوه ښځه خپل ځان دنبی ﷺ دپاره هبه کړی بی مهر اوبی دنکاح څخه نوته به په دی ښځی تصرف کولی سی اوکه نه؟ داحکم صرف دنبی دپاره دی اوکه دامت دپاره هم دی؟

جواب: ۱\. دنابالغی دپاره ولی شرط دی اودبالغی دپاره ولی کیدل سنت اومستحب ([1]) دی او: لاَ نِكَاحَ اِلاَّ بِوَلِيٍّ، په دی صورت کی محمول دی پرکمال دنکاح باندی.

۲\. داحکم خاص دی دنبی کریم ﷺ دپاره. فقط

داکا او دورور په وجود کی دپلار داکا زوی ولی نه سی کیدی: **سوال:** (۱۰۰۹) دنابالغانو دسکه اکا زوی چی عمر یي درویشت کاله دی په مقابله کی دپلار داکا دزوی ولی کیدو ته ترجیح ورکیدی سی اوکه نه؟

جواب: دنابالغانو ولی په دې صورت کی داکا زوی دی دپلار داکا زوی ولی نه دی ([2]).

وکیل دانجلۍ څخه اجازه وانه خیسته او نکاح یي وکړه نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۱۰۱۰) که دهندی نابالغی پلار زید وکیل کی اوزید بی داجازته دهندی ددی نکاح وکړه وروسته هنده ته چی اطلاع وسوه نودی سکوت اختیارکی نوداسکوت موجب دصحت دنکاح دی اوکه نه؟ اوداسکوت اجازت دی اوکه نه؟

جواب: که بالغی هندې پلار زید وکیل کی اوزید بی داجازته دهندی ددی نکاح وکړه وروسته چی هندی ته اطلاع وسوه نودا چپ سوه نوداچپ کیدل موجب دصحت دنکاح دی اوددی سکوت اجازه ده: زوجها وليها واخبرها رسوله اوفضولی عدل فسكت عن رده مختارة اوضحكت غير مستهزئة او تسمت او بكت بلا صوت الى قوله فهو اذن (درمختار علی هوامش الشامی ([3]). فقط

اکا، ماما، مور، سته ، اکا دشرکت دعقد څخه انکار کوی باید څه وسی؟ **سوال:** (۱۰۱۱) یوه انجلۍ ددولسو یا ددیارلسو کالو ده اوددی دپلار انتقال سویدی دانجلۍ ماما، اکا، او مورسته خواکا ددی په عقد کی دشریك کیدو څخه انکار کوی نوپه دی حالت کی دچاپه ولایت سره نکاح کیدی سی؟

جواب: که اکا په کفو کی دمهر مثل سره دنکاح کولو څخه انکار کوی اوبل څوك دوهم ولی عصبه هم موجود نه وی نومور ته ولایت دنکاح دبالغی حاصل دی په درمختار کی

([1]) وهی هنا نوعان ولاية ندب على المكلفة اى البالغة العاقلة ولوبكرا وولاية اجبار على الصغيرة ولو ثيبا وهى الولى شرط صحة نكاح صغير ومجنون ورقيق لامكلفة (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الولى ج۲ ص۴۰۷ ، ط.س. ج۳ ص۵۵). ظفير

([2]) الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الولى ج۲ ص۴۱۰، ط.س. ج۳ ص۵۹. ظفير

([3]) الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الولى ج۲ ص۴۳۳، ط.س. ج۳ ص ۸۲. ظفير

دی چی: ویثبت للابعد الخ التزویج بعضل الاقرب ای بامتناعه عن التزویج (۱) اجماعاً الخ درمختار. فقط

دنابالغی اختیار پلار ته سته اوکه نه؟ سوال: (۱۰۱۲) پلار ته اختیار دنابالغی لور سته او که نه؟ دحضرت صدیقه رضی اللہ عنہا عمر په وخت دنکاح څوکاله وو؟

جواب: پلار ته دنابالغی لور دنکاح اختیار سته، دحضرت صدیقة رضی اللہ عنہا عمر په وخت دنکاح اوه کاله وو، کذا فی حدیث رواه مسلم وعن عروة عن عائشة قالت ان النبی ﷺ تزوجها وهی بنت سبع سنین وزفت الیه وهی بنت تسع سنین الحدیث. ج۱ ص **۴۵۴**).

دولی عصبه داکا درضا څخه خلاف دمور تړل سوی نکاح صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۱۰۱۳) دیوی انجلۍ نابالغی نکاح ددی مور وتړله په وجود داکا او دورور نابالغ ددی کی بی رضا ددوی څخه نودا نکاح جائز ده اوکه نه اودوهمه نکاح دانجلۍ صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دنابالغی دنکاح ولی ددې اکادی اوورور په سبب دنابالغ کیدو ولی نه دی نو درضا څخه بغیر دانکاح صحیح نه ده که ده دمور نکاح باطله کړی وی او انکار یې کړی وی نودوهمه نکاح ددی انجلۍ صحیح ده. (۲) فقط

بی اجازته چی کمه نکاح وسوه هغه موقوفه ده: سوال: (۱۰۱۴) دزید میریزی زوی دخپلی نکاح په موقع نسته بهر په بل ښارکی نوکردی زید دڅلوپېښتو اویا پنځوسو سړیو جرګه دبکر کور ته بوځی، چی دخپل میریزی زوی نکاح دبکر دلور سره وکړي اوزید دخپل میریزی زوی دطرفه چی حاضر نه وو قبول وکی خوچی کله دانجلۍ درضامندی دحاصلولو نوبت راغی نوبکر وویل چی انجلۍ نابالغه وه په دی صورت کی نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: چی هلك ته څه وخت دا اطلاع اوخبر ورسیدی چی زما میریزی پلار زما نکاح دفلانی انجلۍ سره وکړه نوکه ده دغه وخت مذکوره نکاح برقرار وساتله په دی شرط چی هلك بالغ وی نودا نکاح به صحیح وی: کما هو نکاح الفضولی، دارکم انجلۍ که څه هم بالغه ده خوچی دې ته کله خبر دنکاح ورسیږی چی زما پلار زما نکاح دفلانی هلك سره وکړه اودا چپ پاته سی نونکاح به وسی غرض داچی مذکوره نکاح موقوفه ده دهلك او دانجلۍ پراجازه خوپه دی صورت کی دانجلۍ سکوت هم اجازه شمارل کیږی لکه چی په درمختارکی دی: اوزوجها واخبرهارسوله اوفضولی عدل فسکتت عن رده مختارة الخ

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۳ ، ط. س. ج۳ ص۸۲. ظفیر

(۲) فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲ ، ط.س. ج۳ ص۸۱). ظفیر

فهو اذن الخ [۱]. فقط

په رضامندي چې كمه نكاح وسوه نوهغه صحيح ده بيا انكار معتبر نه دي: سوال: (۱۰۱۵) دري شاهدانو دكوښدي ځواني ښځي رضامندي حاصله كړه اونكاح تړونكي ته يي وويل چي داښځه اقرار كوي چي په عرض ددوو سوو روپو مهركي زما نكاح وكړه نودي نكاح تړونكي نكاح وتړله نودا نكاح وسوه اوكه نه؟ دوي ګهنتي وروسته ښځه انكار كوي؟

جواب: په دي صورت كي نكاح منعقده سوه. كذا في الدرالمختار (وروسته انكار كول قابل داعتبار نه دي ځكه چي شاهد موجود دي. ظفير)

په ځومره عمركي ښځه خودمختاره كيږي؟ سوال: (۱۰۱۶/۱) ښځه چي كم عمرته ورسيږي نودخپل نفس اختيار لري؟ (۲) دښځي دبالغيدو دپاره څه عمر مقرر دي اوكه يو وار حيض راتلل دبلوغ دپاره كافي دي؟

جواب: ۱/: دپنځلسو كالو عمر چي پوره سي دغه وخت ښځه شرعًا بالغه ده اوكه ددي څخه مخكي حيض راغي نوبيا دغه وخت بالغه سوه [۲] . فقط

۲/. غرض دادي چي كه څه علامه دبلوغ لكه حيض وغيره وي نودغه وخت به دا بالغه سي كنې نودحيض دنه راتلو په صورت كي به دپنځلسو كالو په عمر بالغه كيږي. كذافي الدر المختار [۳]. فقط

دبالغي واده ددي دمرضي مطابق كول پكاردي دمور اوپلار درضا په خلاف كولو كي څه ګناه نسته: سوال: (۱۰۱۷/) مور اوپلار دهلك واده كول غواړي خوچي په كم ځاى كي مور وپلار واده ورته كوي هلك ددي په خلاف بل ځاى خواهش لري نومور پلار لره هلته كول پكاردي اوكه نه؟ كه هلك دمور اوپلار خلاف وكړي نوګنهګار دي اوكه نه؟

جواب: چي كم ځاى دهلك رضاوي هم هلته نكاح كول په كاردي ځكه چي هسي نه چي په خلاف كولو كي دښځي اوخاوند به موافقت رانه سي اوهلك لره حتي الوسع دمور اوپلار اطاعت كول په كاردي خوكه دخپل خواهش اودرضا موافق نكاح وكړي نوګنهګار نه دي [۴] وروسته دنكاح څخه مور اوپلار چي هرڅنګه كيدى سي خوشحاله دي كړي. فقط

بالغه خودمختاره ده دضابطي ولي پلار دي نيكه (دمور پلار) او ماما نه دي: سوال: (۱۰۱۸/)

---

(۱) الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الولى ج۲ ص ۴۱۰ – ۴۱۱ ، ط.س. ج۳ ص ۵۹. ظفير

(۲) بلوع الغلام بلا احتلام الخ والجارية بالاحتلام والحيض الخ فان لم يوجد فيهما شي فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتى (الدرالمختار ج۲ ص۱۹۹ كتاب الحجر ج۳ ص۱۵۳. ظفير

(۳) ايضا. ظفير

(۴) فانكحوا ما طاب لكم من النسآء (النساء) . ظفير

یوه انجلۍ پلار اونیکه ماماته ورکړی وه چی ته ددی پالنه وکړه اوهم ته ددی واده وغیره وکړه اوس دا انجلۍ ځوانه ده اوپه نکاح کی یي جګړه ده نیکه اوماما یي غواړی چی په یوه ځای کی یي نکاح وکړی اوپلار یي په بل ځای کي غواړی نودا وواياست چی ددی ولی څوك دی اوڅوك یي نكاح كولی سی؟

جواب: ولی ددی انجلۍ ددی پلار دی خوچی کله انجلۍ بالغه ده نوددی داجازې څخه بغير ددی پلار هم ددی نکاح نه سی کولی خوچی پلار شرعی ولی دی ([1]) نودده په اجازه اخیستو دانجلۍ چپ پاته کیدل رضا ده اواجازه به ګڼل کیږی په خلاف دنیکه اودماما څخه چی که دوی اجازه دانجلۍ څخه اخلی نوچی کله انجلۍ صراحةً په ژبه اجازه ورنه کړی نونکاح نه کیږی ([2]). فقط

لیری ولی نکاح وکړه او نژدی ولی ردکړه نودا نکاح ونه سوه: **سوال**: (۱۰۱۹/۱) یوی حنفی ښځی چی دهغې عمر شل کاله دی ددی مخکی نکاح په حالت دنابالغتیا کی تقریبا داته کالو په عمرکی په ولایت ددی دترور اودنورو قریبانو په جبر اوپه زور سوی وه خوددی مور اوپلار هم په دی نکاح رضانه وه اوجلا وه، تردغه وخته پوری دابنځه داول خاوند په کور کی اباده نه وه اونه ددی سره خلوت سوی وو هم داسی په اوله نکاح راضی نه ده خواوس چی ددی مور اوپلار مړه دی اودا ددوهمی نکاح خواهشمنده ده نوآیا شرعا دا اوله نکاح به فسخ ګڼل کیږی؟ اوخپله دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دپلار اودنیکه په وجود کی لیری قریبانو ته لکه ترور وغیره دنابالغی دنکاح اختیار نسته که ترور وغیره نکاح وکړه نودا نکاح پراجازه دپلار اونیکه موقوفه ده که نژدی ولی راضی سو نونکاح قائمه ده کنې نو باطله ده نوکه پلار وغیره په خپل ژوند کی دانکاح فسخ کړه ([3]) نوددی انجلۍ دوهمه نکاح بی داول خاوند دطلاقو صحیح ده اوکه فسخ سوی نه وه او وروسته تربلوغ دانجلۍ داپه دی نکاح راضی نه ده نو بیا هم دا

([1]) الولی فی النکاح العصبة بنفسه بلاتوسط علی ترتیب الارث فحجب (درمختار) وابن الابن کالابن ثم یقدم الاب ثم ابوه الخ (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۸ ، ط.س. ج۳ ص ۷۲). ظفیر

([2]) فنفذ نكاح حرة مكلفة بلا رضا ولي الخ فإن استأذنها هو أي الولي وهو السنة أو وكيله أو رسوله أو زوجها وليها وأخبرها رسوله أو فضولي عدل فسكتت عن رده مختارة الخ فهو إذن الخ فإن استأذنها غير الأقرب كأجنبي أو ولي بعيد فلا عبرة لسكوتها بل لا بد من القول كالثيب البالغة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۷ ، ط.س. ج۳ ص ۵۵) الولی فی النکاح العصبة بنفسه الخ علی ترتیب الارث والحجب (ایضا ج۲ ص۴۲۷، ط.س. ج۳ ص۷۲). ظفیر

([3]) فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۲، ط.س. ج۳ ص ۸۱). ظفیر

نکاح فسخ سوه اوبله نکاح انجلۍ کولی سی. فقط

بالغی دفلانی دزوی سره اجازه ورکړه وروسته معلومه سوه چی داخو دفلانی زوی نه دی نو څه حکم دی؟ سوال: (۱۰۲۰) زید دخپلی لور هندی اجازه واخیسته اودعمر دزوی بکر سره یي په نکاح کړه وروسته معلومه سوه چی بکر دعمر زوی نه دی دبل ذات څخه دی چی دعمر ښځی راوستلی وو، اوس هنده دبکر کور دتلو څخه انکاري ده وایي چی زما سره دهوکه سویده ما اجازه دعمر دسکه زوی سره دنکاح کړی وه، په دی صورت کی نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: که دهندی څخه یي په دی اجازه اخیستی وه چی زه ستا نکاح دبکر دعمر دزوی سره کوم نودي په دي اجازه ورکړه یایي سکوت وکی اوپه حقیقت کی دادعمر زوی نه وو نو دبکر سره چی کمه نکاح پلار کړیده نوهغه په اجازه دهندی موقوفه ده که وروسته داطلاع څخه هنده چپ پاته سوه نونکاح وسوه اوکه ردیي کړه نوباطله سوه (۱). فقط

په ولی ضروری نه ده چی هغه دبل خبره ومنی: سوال: (۱۰۲۱) دزید خاندان دزید په نوم اقرار نامه لیکلی ده چی دی دخاندان سردار اوقاضی دی بغیر دده درضا څخه به بل ځوك نکاح نه سی کولی خوبکر چی دانجلۍ ولی دی په زید نکاح نه تړی دبکر په دی حرکت په خاندان کی تفرقه او فساد کیږی شرعا په دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: بکر چی دکمی انجلۍ ولی دی هغه ددی نکاح په خپله کولی سی دنکاح تړونکی ته ضرورت نسته خوتفرقه اچول هم په خاندان کی ښه نه دی بکر لره داسی خبره نه ده کول پکار چی په هغه سره په خاندان کی تفرقه راسی (خوزید لره هم پکاردی چی دولی خبره ومنی دده په اختیار کی دي خامخا دخل نه کوی. ظفیر)

په مسئوله صورت کی دوورور په نه منظوررولو سره به نکاح باطله سی: سوال: (۱۰۲۲) زید یوه ښځه سلیمه اویوه نابالغه لور عاقله اویو زوی فهیم بالغ پرې ایښی دی، سلیمې دعقیله نکاح بی دمشوری دفهیم څخه دده په عدم موجودګی کی وکړه. اوحال دادی چی داپه فائده اوپه تاوان نه وه خبره اوس فهیم وایي چی زه په فسخ دنکاح کی اختیارمند یم اواوس سلیمه هم په تاوان کیدو کی دفهیم سره متفقه ده آیا فهیم دفسخ دنکاح اختیارمند دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دعقیله نابالغه ولی فیهم دی (۲)، او که فهیم موجود نه وی یو

---

(۱) بخلاف ما لو باشر العقد من اصیل او ولی اووکیل اوفضولی اخر فانه یتوقف اتفاقا (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۲. ط.س. ج۳ ص۷۰). ظفیر

(۲) الولي في النکاح لا المال العصبة بنفسه الخ بلا توسط انثی علی ترتیب الارث والحجب فیقدم ابن =

ځای لیری وی اوبل عصبه هم نه وی نودنکاح ولی مورده ([1])، نوکه فهیم موجود وو او دمور کړی نکاح ته یي ناجائز وویل نودا نکاح چی پررضا دفیهم موقوفه وه باطله سوه ([2]) اوکه فهیم لیری وو اومور په خپل ولایت سره نکاح وکړه نودا صحیح ده اوفهیم ته دفسخ دنکاح اختیار نسته. ثم یقدم الاب ثم ابوه ثم الاخ الشقیق الخ فان لم یکن عصبة فالولایة للام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۸).

په دوو برابرو ولیانو کی چی کم یومخکی نکاح وکړه نودا جائزده اودوهمه باطله ده: **سوال**: (۱۰۲۳) نعمت نومي انجلۍ چی دهغه عمر دیارلس کاله او اوه میاشتی دی ددی داکا مشر زوی ددی نکاح په خپل ولایت سره دخپل مینځینی وراره سره وکړه هم په دغه شپه ددی داکا کشر زوی ددی نکاح دیو بل سړی مسینا سره وکړه کمه نکاح صحیح سوه او کمه یوه باطله ده اوس دانجلۍ عمر شپاړس کاله او ځومیاشتی دی هغه ددی نکاح څخه بی زاره ده نو انجلۍ ته دنکاح دفسخ اختیار سته اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ولو زوجها ولیان مستویان قدم السابق فان لم یدر او وقعا معًا بطلا الخ ([3]). نو معلومه سوه چی ددی دوو اکا زامنو څخه علاوه نژدی ولی ددی انجلۍ بل نه وو او ددی دواړو اکا زامنو درجه مساوی ده نوچی دچا نکاح مخکی وسوه هغه صحیح ده او وروستنۍ باطله ده، نوددی وجه څخه چی مشر داکا زوی کمه نکاح څه لږ مخکی کړیده هغه صحیح سوه اوچی دکشر اکا زوی کمه نکاح څه لږ وروسته کړیده هغه باطله اوناجائزسوه اوس باقی پاته سو خیار دفسخ دبلوغ نوپه دی کی قضاء دقاضی شرط ده بغیر ددی څخه نکاح نه فسخ کیږی اوداهم شرط دی چی نابالغه دبلوغ سره سمدستی خپله ناراضګی ښکاره کړی ([4]). فقط

دشپاړسو کالو انجلۍ خپله نکاح په خپله کولی سی: **سوال**: (۱۰۲۴) دحرمت خان دمرګ لس کاله وسوه اویوه ښځه اویوه لوربي پریښی دی ددی دواړو پالنه ددی انجلۍ ماما

= المجنونة علی ابیها (درمختار) ثم یقدم الاب ثم ابوه الخ ثم الاخ الشقیق (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷ – ۴۲۸، ط. س. ج۳ ص۷۲). ظفیر

([1]) فان لم یکن عصبة فالولایة للام (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۹، ط.س. ج۳ ص۷۸). ظ

([2]) وللولی الابعد التزویج بغیبة الاقرب فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲، ط.س. ج۳ ص۸۱). ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲، ط.س. ج۳ ص ۸۱. ظفیر

([4]) وان کان المزوج غیرهما ای غیر الاب وابیه الخ وان کان من کفو وبمهر المثل صح ولکن لهما ای لصغیر وصغیرة وملحق بهما خیار الفسخ ولوبعد الدخول بالبلوغ الخ بشرط القضاء للفسخ الخ (الدرالمختارعلی هامش رد المحتار باب الولی ج۱ ص۴۱۹، ط.س. ج۳ ص۲۷). ظفیر

وکړه اته میاشتی وسوی چی دانجلۍ مور هم مړه سویده، دې داوصیت کړی وو چی زما دلور نکاح دصدیق سره چی دمولا بخش زوی دی وکړی اوس دانجلۍ عمر شپاړس کاله دی دانجلۍ ماما وایي چی دانجلۍ واده چی زما کم ځای خوښ سی نوهلته به یي کوم او دانجلۍ داکا زوی وایي چی زه به دانجلۍ واده ددی دمور دوصیت مطابق کوم او دانجلۍ عمر شپاړس کاله دی نو ولی دنکاح څوك دی؟

جواب: شرعی ولی په دی صورت کی دانجلۍ داکا زوی دی خو چی انجلۍ دشپاړسو کالو ده نوشرعا دابالغه ده ددی په اجازه اوپه اذن سره ددی ماما هم ددی نکاح په کفو کی کولی سی اودمور وصیت په باره دنکاح کی معتبرنه دی انجلۍ ته اختیاردی چی په کم ځای کی ددی خوښه وی په خپل کفو کی نکاح کولی سی. فقط

دښځی اخیستل او خرڅول حرام دی او ددی ولی ددی پلار دی: **سوال**: (۱۰۲۵/۱) یوسړی خپله ښځه په دوه نیم سوه روپو خرڅه کړه اوچی چا واخیسته هغه لیك په ستامپ وکی دوی دری میاشتی وروسته ده بیاپه بل سړی په دوه نیم سوه خرڅه کړه او استامپ یي په ولیکی، خوپه دواړو لیکونوکی لفظ ددری طلاقو سته اوس داښځه ددوهم مشتری څخه ووتله اونکاح یي وکړه ځکه چی ددی ددوهم مشتری سره نکاح نه وه سوی ددی ښځی سره دلس یوولسو کالو انجلۍ هم وه چی کم وخت مخکنی مشتری دا اخیستی وه نوده دانجلۍ متعلق داوعده کړی وه چی زه به خرچه خوراك ورکوم کنې نو دیوکال وروسته به زما څه دعوٰی نه وی دانجلۍ پلار پنځه کاله قید سوی دی دانجلۍ اکا سته آیا داښځه دمذکوره انجلۍ نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: ددی نابالغی انجلۍ ولی په دی صورت کی ددی پلار دی اودپلار څخه وروسته اکا ولی دی اومور بغیر داجازی دولی اختیار دنکاح دنابالغی نه لری او دپلار په دی ویلو سره دده ولایت نه ساقطیږی، او دا اخیستل او خرڅول دښځی حرام دی اوهم باطل، البته دپلار دغائب کیدو په صورت کی خودده سره څه مشوره نه سی کیدی، په دې صورت کی دده ورور یعنی دانجلۍ اکا ولی دی، کمافی کتب الفقه: وللولی الابعد نکاح الصغیر والصغیرة بغیبوبة الاقرب (۱) الخ. فقط

پلار چی کله صحیح الحواس نه وی نو ددی انجلۍ ولی څوک دی: **سوال**: (۱۰۲۶/۱) زید په وخت دواده صحیح الحواس وو بیاڅه موده وروسته دی مخبوط الحواس سو اوکم عمره لور اوښځه یي دکوره وایسته خوطلاق یي نه دی ورکړی آیا دزید رضامندی دده دنابالغه

(۱) وللولی الابعد التزویج بغیبة الاقرب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲، ط. س. ج۳ ص۸۱). ظفیر

لور په نکاح کی ضروری ده؟

جواب: که زید صحیح الحواس وی نودده اجازه اورضامندی دده دنابالغی لور په نکاح کی ضروری ده اوکه زید صحیح الحواس نه وی نوبیا دده اجازه اودرضاء ضرورت نسته ([1]). دده رضا اوعدم رضاء برابردی اواکا وغیره دپلار اودنیکه څخه وروسته اولیاء دی هغوی نکاح دنابالغی کولی سی . فقط

دوو برابرو ولیانو یوه دخپل لمسی سره نکاح وکړه او بل دخپل زوی سره نوکمه یوه صحیح ده؟ **سوال**: (۱۰۲۷) دوه برابر ولیان دی یواکا دنابالغی واده دخپل لمسی سره وکی او دوهم دخپل زوی سره په دی کمه نکاح صحیح سوه؟

جواب: قال فی الدرالمختار: ولوزوجها ولیان مستویان قدم السابق ([2]) الخ. نوجواب په صورت مذکوره کی دادی چی دواړه ترونه دصغیری په نکاح کی په مساوی درجه دی چی کم یوه په دوی کی مخکی نکاح وکړی هغه به صحیح وی اونافذه به وی دمقرر سوی قانون څخه په خلاف کولو سره هم شرعًا نکاح کیږی اوبیا دحاکم په ماتولو سره نه سی ماتیدی حاصل داچی مخکنۍ نکاح باقی ده اودوهمه نکاح باطله ده. فقط

دولد الحرام ولی مورده: **سوال**: (۱۰۲۸) څه فرمایي علماء دین دهغه نابالغی انجلۍ دنکاح په باره کی چی دیوناجائز تعلق څخه پیداسویده چی دهغه دمور نکاح دچاسره هم نه وه سوی دنابالغی دمور په اجازه ددی دیونابالغ سره نکاح وسوه څو میاشتی وروسته دنابالغ هلك پلار خپله خرچه وغیره واخیستنه اوبل ته یي وسپارله اوپه حیثیت دولی یي طلاق نامه ولیکله نوچی دچاپه سپارنه کی انجلۍ ده داسړی خپله یا دخپل یو قریب سره ددی نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دولد الحرام نسب دمور څخه ثابت دی پلار دده یوهم نه وی نوولایت دنکاح دهغه انجلۍ چی بدون دنکاح څخه پیدا سوی وی مورلره دی، ددی مورچی کمه نکاح وکړی هغه صحیح ده ([3])، دنابالغ خاوند ولی ته دطلاق ورکولو اختیار نسته، نوهغه طلاق چی ولی کړیدی صحیح نه دی، او دنابالغ خاوند ولی ته دطلاق ورکولو اختیار نسته، نوهغه طلاق چی ولی ورکړیدی صحیح نه دی، اودنابالغ خاوند طلاق واقع کیږی. کمافی الدر المختار: لایقع طلاق المولی علی امرأة عبده الخ والمجنون الخ والصبی الخ ([4]) نوچی ترڅوخاوند اول بالغ

([1]) ولا ولایة لعبد ولاصغیر ولامجنونًا لانه لا ولایة لهم علی انفسهم فاولی ان لایثبت علی غیرهم (هدایه باب الاولیاء ص ۲۸۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۳۱۸). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ص۴۳۲ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۸۱. ظفیر

([3]) فان لم یکن عصبة فالولایة للام (الدرالمختارعلی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۹، ط.س. ج۳ ص۷۸). ظ

سوی نه وی اوده طلاق نه وی ورکړی نوطلاق به واقع نه وی. فقط

دحکومت مقرر سوی ولي دنکاح ولي نه دي بلکې دمال دي: **سوال**: (۱۰۲۹) دیوی یتیمی نابالغی ولی ددی داکا زوی وو او دنابالغی پرجائیداد قابض وو اودکلونو راهیسی ددی آمدني به یې په خپل مصرف راوستی نابالغی ته به یې یوه پیسه هم نه ورکوله دده دبد دیانتی دوجه حاکم دوقت دنابالغی ماما ولی مقررکی او دنابالغی داکا زوی دخپل مرګ څخه اوه ورځی مخکی دنابالغی عقد دخپل لمسی سره وکړی نودا عقد صحیح دی اوکه نه؟ دحاکم ددوهم ولی دمقرر کولو څخه وروسته سابق ولی ته اختیار دنکاح سته اوکه نه؟

جواب: دنابالغی مذکوره نکاح چی ددی داکا زوی په خپل ولایت سره دخپل لمسی سره کړیده هغه صحیح ده او ولایت دنکاح دنابالغی ددی داکا زوی ته دی ماما لره نسته (۱) خو ددی په مال کی دتصرف اختیار ددی داکا زوی ته نسته، په مال کی دتصرف اختیار یې ماماته دی چی کم حاکم مقرر کړیدی اویا دیوبل امانت دار متعلق وسی.

چی پلار او خوروی نوولی پلار دی خوچی پلار یې په کفو کی نکاح نه کوی نوبیا یې خور کولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۳۰) دزید خور هندی دزید دنابالغی لور زاهدی پالنه وکړه اوخپله ځای نشینه یې وګرځوله اوس هنده داغواړی چی دزاهدی واده په خاندان کی وکړی خوپه دی معامله کی دزید دوهمه ښځه زید لمسوی نوزید خلل اچوی اومانع دی نوپه دی صورت کی هنده دزاهدی نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دنابالغی دنکاح ولی ددی پلار دی، بغیر دپلار داجازته ددی نکاح نه سی کولی خو دفقه په کتابونوکی دا لیکلی دی چی که ولی اقرب یې په کفوکی نه کوی نوولی بعد ته اختیار دنکاح کیږی نوبیا په دغه وجه باندی هنده ددی نکاح کولی سی (۲). فقط

په غیر کفوکی یو ولی دنکاح اجازه ورکړه بل ولی مخالفت وکی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۰۳۱) زید دیوی لور مریم نکاح دخپل نژدی قریب بشیر سره وکړه اودبلی لور زینب نکاح یې دیو یاری سړی خالد سره وکړه ددی څخه وروسته دزینب زوی بکر دخپل لمسی

---

(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵ – ۵۸۶ ، ط.س. ج۳ ص۲۴۲. ظفیر

(۱) الولی فی النکاح العصبة بنفسه علی ترتیب الارث والحجب الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷ ، ط.س. ج۳ ص۷۶). ظفیر

(۲) ویثبت للابعد من الاولیاء النسب لو لم یزوج الاقرب زوج القاضی عند فوت الکفو التزویج لعضل الاقرب ای بامتناعه عن التزویج (درمختار) ای من کفو بمهر المثل (ردالمحتار باب الولی ص۴۳۲ و۴۳۴ ج۲. ط. س. ج۳ ص۸۲). ظفیر

ترور مریم دلور چی نوم یې کریمه دده سره نکاح وکړه بغیر داجازت داولیاء ددی ځخه او دکریمی پلار مړسوی وو ددی په ورونو کی یوسکه ورور په دی نکاح راضی وو اونور سکه ورونه اوقریبان په دی نارضا وه په دی وجه چی دانکاح په غیر کفو کی ده نودبکر دا نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق، چی داحنافو مذهب دادی چی دبالغی نکاح بغیر داجازته دولی ځخه صحیح ده خوکه بالغه خپله نکاح په غیر کفوکی وکړی نوولی ته دفسخ اختیار سته اومختار قول دادی چی په غیر کفو کی نکاح نه صحیح کیږی یعنی چی کله ولی راضی نه وی خوکه په اولیاؤ کی یوهم راضی سی نودا نکاح صحیح ده بیانه سی فسخ کیدی، په درمختار کی دی چی: فنفذ نکاح حرة مکلفة بلا رضا ولي الخ وله الاعتراض في غیر الکفو الخ وفي غیر الکفو بعدم جوازه أصلا وهو المختار للفتوی، وبناء علی الأول وهو ظاهر الروایة فرض البعض من الأولیاء کالکل [1] الخ. نو دروستنی روایت ددرمختار ځخه واضحه سوه چی مذکوره نکاح صحیح ده ځکه چی ددی ځخه وروسته چی نکاح په غیر کفوکی سویده دیوولی راضی کیدل هم دصحت دنکاح دپاره کافی دی. فقط

ددولسو دیارلسو کالو هلک اودنهو لسو کالو انجلۍ دځان بالغ کیدل بیانوی، نودا ومنل سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۳۲\۱) که هلك چی ددولسو اوددیارلسو کالو په مینځ کی وی او انجلۍ چی دهغې عمر دنهو اودلسو کالو په مینځ کی وی اوخپل ځان بالغ کیدل ښکاره کړی اوخاوند دعقل کیدل خو ددوی واضح وی نوشرعًا ددوی بیان به منل کیږی اوکه نه؟ یعنی دوی به بالغ متصور کیږی اوکه نه؟

جواب: ددولسو دیارلسو کالو په عمرکی هلك چی دخپل ځان بالغ کیدل بیانوی اوپه ښکاره حال هم دده دبیان صحیح معلومیږی یعنی په هم دومره عمرکی هلکانو ته احتلام کیږی نوقول دده معتبردی اودی به بالغ شمارل کیږی، او دانجلۍ دپاره داحکم دلسو کالو په عمرکی دی یعنی ددی قول په باره دبلوغ کی معتبردی اودپنځلسو کالو په عمر کی خوخامخا دبلوغ حکم شرعًا وربانړی کیږی. فی الدرالمختار وادنی مدته له اثنتی عشرة سنة ولها تسع سنین هوالمختار کما فی احکام الصغار فان راهقا بان بلغا هذا السن فقالا بلغنا صدقا ان لم یکذبهما الظاهر الخ وهو ان یکون بحال یحتلم مثله والا لا یقبل قوله [2] الخ . فقط

[1] الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۷ - ۴۰۹ ، ط.س. ج۳ ص۵۲. ظفیر
[2] الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارکتاب الحجرفصل بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲ - ۱۳۳ ، ط.س. ج۳ ص۱۵۴.

دحیض دراتلو څخه وروسته به انجلۍ بالغه منل کیږي او دابه دخپلی نکاح مالکه وي: سوال: (۱۰۳۳) انجلۍ به په حائضه کیدو سره بالغه ګڼل کیږي اوکه نه که دا بالغه ومنل سی نوآیا داپه کفوکی دواده کولو مجازده اوکه نه؟

جواب: بالغه به منل کیږي، اوپه کفوکی ددی نکاح په خپل اختیار صحیح ([1]) ده. فقط

بی حیا مورته حق دپالنی نسته او ددی دنکاح حق اکاته دی: سوال: (۱۰۳۴) دولایت حسین دری ورونه وه چی دوه ورونه قدرت حسین اولائق حسین مړه سوه دقدرت حسین کونډه رحمانی بیګم په امید وه اوددې یوه انجلۍ مصطفانی خانم پیداسوه مذکوره ښځی په عدالت کی دیوانی مقدمه وکړه دیو دعوی په خپل حق کی چی په دی کی داکامیابه سوه اوډګری یي په سبب دحکم نامه حاصل کړه اوس دځلورو پنځو کالو راهیسی مذکوره ښځه بی حیا سویده اوخپلی لور ته دګډا تعلیم ورکوی اواکثره پرهیزګاره خلګ ماته پیغور راکوی اووایي چې ته خپله وریره په قبضه کی ورځینی واخله اوددی کار څخه یي وساته، نوزما دپاره شرعًا څه حکم دی؟

جواب: ددی خلګو داویل صحیح دی ولایت حسین چی دانجلۍ ولی دی ده لره په کاردی چی خپله وریره په خپل ولایت اواختیار کی واخلی او دداسی بدو افعالو څخه یي بنده کړي اودمصلحت مطابق په ښه ځای کی ددی نکاح وکړي ([2])، اوددی مورته هیڅ ولایت اواختیار پرمذکوره انجلۍ شرعًا حاصل نه دی اوددی حق دپالنی (حضانت) په سبب دبی حیا کیدو ساقط سو ([3]). والله اعلم

دانجلۍ پلار چی دهلک څخه پیسی واخلی نوولی پاته دی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۳۵) دانجلۍ اودهلك نکاح په نابالغتیا کی ددوی مور اوپلار وکړه اودانجلۍ پلا دهلك دپلاره پنځه زره (۵۰۰۰) روپی یا زیاتي او کمي په نفسانی طمع واخیستی په داسی حالت کی دی دانجلۍ ولی پاته دی اوکه نه؟ اونکاح جائز سوه اوکه نه؟ بغیر دطلاقه انجلۍ وروسته دبلوغ څخه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دنابالغی په حالت کی چی پلار دلور کمه نکاح کړیده هغه صحیح ده او چی پلار

([1]) بلوغ الغلام بالاحتلام الخ والجارية بالاحتلام والحيض والحبل (الدرالمختار على هامش رد المحتار كتاب الحجر فصل بلوغ الغلام ص۱۳۲ ج۵ ، ط.س. ج۳ ص۱۵۳). ظفير

([2]) الولى فى النكاح العصبة بنفسه على ترتيب الارث والحجب الخ فان لم يكم عصبة فالولاية للام (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الولى ج۲ ص۴۲۷ – ۴۲۹ ، ط.س. ج۳ ص۷۶). ظفير

([3]) تثبت (الحضانة) للام النسبية ولو كتابية اومجوسية اوبعد الفرقة الا ان تكون مرتدة فحتٰى تسلم اوفاجرة فجورا يضيع الولد به كزنا وغناء وسرقة ونياحة (درمختار) ويشترط فى الحضانة ان تكون حرة بالغة عاقلة امينة قادرة (ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۱ – ۸۷۲ ، ط.س. ج۳ ص ۵۵۵). ظفير

كمې پيسې دهلك دپلار څخه اخيستې دي نودا رشوت اوحرام دي بيرته ورکول يې پکار دي، نوددې په سبب ولايت نه باطليږي اوس دطلاق څخه بغير دابنځه نکاح نه سي کولی اونه په دې صورت کې انجلۍ ته دبلوغ خيار ثابت (١) دی. فقط

دحضرت علي ﷺ څخه پيسې اخيستې سول وې اوکه نه؟ سوال: (١٠٣٦) نبی کريم ﷺ دحضرت علي ﷺ څخه دحضرت فاطمه رضي الله عنها دجهيز وغيره دپاره پيسې اخيستی وې اوکه نه؟ دا روايت څنګه دی؟

جواب: دحضرت علي ﷺ څخه دنبی کريم ﷺ روپې دجهيز وغيره دپاره ثابتې نه دي دا بالکل غلطه اوبې اصله خبره ده داقسم روايت نسته که داسې وي نوفقهاء کرام به ديته څنګه حرام ويلی؟

نابالغې دماشوم والي دنکاح څخه انکار وکې اودوهمه نکاح يې وکړه ددې نکاح او دنسب څه حکم دی؟ سوال: (١٠٣٧) دهندې پلار مړسو دهندې يواکا دبل اکا دزوی سره دهندې په کوچنی والی کې نکاح وکړه هنده دبالغيدو څخه وروسته دخاوند کورته ولانه ړه بيا يې انکار وکې چې ماته دانکاح منظوره نه ده وروسته بيادې دبل سړي سره نکاح وکړه چې هغه ته داټوله واقعه معلومه وه دهندې ددې خاوند څخه يوه لور پيدا سوه اوس ددې انجلۍ نسب به دچا څخه ثابت وي اوانجلۍ به دچا وارثه وي؟ اوددې وارث به څوك وي اوهنده به دچاپه نکاح کې ګڼل کيږي؟ خاوند به يې څوك منل کيږي؟ اوپه دواړوکې کمه نکاح صحيح ده؟

جواب: دهندې اوله نکاح چې داکا په ولايت سويده صحيح ده اودهندې انکار که دبلوغ څخه څه موده وروسته سوی وي لکه چې دسواله ښکاره ده نودا معتبرنه دی اوپه دې انکار سره په پخوانی نکاح کې څه خلل نه راځی لکه چې په درمختار باب الولی ص ٤٢٠ کې دی چې: وان كان المزوج غيرهما اى غير الاب والجد (الى ان قال) وإن كان من كفو وبمهر المثل صح ولكن لهما أي لصغير وصغيرة وملحق بهما خيار الفسخ ولو بعد الدخول بالبلوغ أو العلم بالنكاح بعده لقصور الشفقة (الى قوله) بشرط القضاء للفسخ فيتوارثان الخ قال الشامي قوله للفسخ اى هذا الشرط انما هو للفسخ لا لثبوت الاختيار وحاصله أنه إذا كان المزوج للصغير والصغيرة غير الأب والجد فلهما الخيار بالبلوغ أو العلم به فإن اختار الفسخ لا يثبت الفسخ إلا بشرط القضاء فلذافرع عليه بقوله فيتوارثان فيه أي في هذا النكاح قبل ثبوت فسخه (شامی ج٢ ص ٤٢٠، ٤٢١).

---

(١) اخذ اهل المارة شيئا عند التسليم فللزوج ان يسترده لانه رشوة (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب المهر ج٢ ص٥٠٣، ط.س. ج٣ ص١٥٦). ظفير

نوچی هندی مذکوری دبلوغ څخه وروسته سمدستی انکارنه دی کړی اونه یي نکاح فسخ کړه ددی وجه څخه ددی خیار دبلوغ چی دېته حاصل وو باطل سو، (قال فی الدر المختار وبطل خیار البکر بالسکوت لومختارة عالمة اصل النکاح (الی ان قال) ولایمتد الی آخر المجلس) (۱) که هندی ته دامسئله معلومه نه وه نوهم ددی خیار بکر په سکوت سره په وخت دبلوغ ساقط سو، (قال وان جهلت به الخ لتفرغها للعلم الخ) (۲) نودوهمه نکاح چی دوهم سړی کړه وه سره ددی چی ده ته پته وه دمخکی نکاح شرعًا باطله ده او کالعدم دی اودی سړی چی په باطله نکاح کی کمه وطی دهندی سره کړېده زناده اوددی څخه چی کمه انجلۍ پیدا سویده ددې نسب ددې زانی څخه ثابت نه دی بلکی ددی نسب دهندی دمخکی خاوند څخه ثابت دی ځکه چی دنکاح دباقی کېدو په وجه دده فراش ثابت دی اوپه حدیث شریف کی دی: الولد للفراش وللعاهر الحجر، قال الشامی فی البحر لو لم تزوج بامرأة الغیر عالمًا بذالك ودخل بها لاتجب العدة علیها حتی لا یحرم علی الزوج وطؤها وبه یفتی لانه زنا والمزنی بها لا تحرم علی زوجها (۳)، وفیه ایضا من باب العدة اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته فالدخول فیه لایوجب العدة ان علم انها للغیر لانه لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد (۴) اصلا، وفی الدرالمختار فی فصل ثبوت النسب وقد اکتفوا بقیام الفراش لا دخول کمتزوج المغربی بمشرقیة بینهما بسنة فولدت لستة اشهر منذ تزوجها لتصوره کرامةً واستخدامًا فتح (۵) وفی الشامی فی شرح قول الدرالمختار الفراش علی اربع مراتب وقوی وهوفراش المنکوحة ومعتدة الرجعی فانه فیه لاینتفی الاباللعان الخ (۶). دمذکوره عبارتونو څخه واضحه سوه چی نکاح دمنکوحة الغیر سره باطله اوکالعدم ده اووطی کول ددی سره زنا ده اوپه زنا سره دنسب نه ثابتیدل خومتفق علیه دی. کما مر فی الحدیث. نومعلومه سوه چی هنده هم ددغه سړی ښځه ده چی دچا سره یي مخکی نکاح سوی وه دابه دهغه وارثه وی اوهغه به ددی، او دانجلۍ نسب به هم دهغه سړی څخه ثابت وی چی دچا هنده ښځه ده دوهمه نکاح چی دچاسره دهنده وسوه نونه هنده دده ښځه ده اونه یي دده سره دوراثت څه تعلق سته په بناء دښځه والی اونه دانجلۍ ددی څخه نسب ثابت دی اونه دوراثت دده سره څه تعلق سته. فقط

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۵، ط.س. ج۳ ص ۷۳. ظفیر
(۲) ایضا ص۴۲۲ ج۲، ط. س. ج۳ ص۷۵. ظفیر
(۳) ردالمحتار فصل فی المحرمات ص۴۰۲ – ۴۰۳، ط.س. ج۴ ص۵۰۲. ظفیر
(۴) ردالمحتار باب العدة ص۸۳۵ ج۲. ظفیر
(۵) الدرالمختار علی هامش رد المحتار فصل فی ثبوت النسب ص ۸۲۷ ج۲ ج۳ ص ۵۵۰.
(۶) ردالمحتار فصل فی ثبوت النسب ص۸۲۷ ج۲. ط.س. ج۳ ص۵۵۰. ظفیر

مور دنابالغی نکاح وکړه پلار اجازه ورنه کړه نونکاح ونه سوه: **سوال**: (۱۰۳۸) دنهو کالو دیوې انجلۍ نکاح ددی موردی دپلار داجازی اودرضاڅخه بغیرکړی وه اوس داانجلۍ بالغه اوځوانه ده ددی خاوند دې ته نان او نفقه نه ورکوی بلکی په یوخط کی یې لیکلی دی چی ما دېته دزړه څخه طلاق ورکړیدی اوتحریری طلاق هلته ورکوم چی زه یې څه وخت خواره کړم خودغه خط ورك سویدی خویوبل خط سته چی په هغه کی څو الفاظ دکنایي طلاقو سته مثلا (۱) دازما ښځه نه ده (۲) دېته ووایاست چی زما دکوره ولاړه سی چی هرې خواته یې خوښه وی زه به بالکل خرڅ نه ورکوم. (۳) څو کاله به یې خرابه کړم بیابه تحریری طلاق ورکړم وغیره وغیره، آیا دمذکوره ښځی مذکوره نکاح کالعدم وګڼل سی نو دنکاح ثانی اجازه ورلره سته؟ (نقل دخط کم چي خاوند راليږلی دی)

جناب میان پیر محمد از جانب عبدالقیوم

ستاسی خط راورسیدی حال معلوم سو زه خوشحاله سوم اوته ماته دخپل زړه خبره ښکاره کړه څه خبره ده؟ که دا ستا سره ښه اوسیږی نو زما ښځه ده کنې نو هیڅ می هم نه ده چی ته څنګه غواړی هغه به کوم خو دڅوکاله خرابولو څخه وروسته که زما مورته بده لګیږی نوزماسخته دښمنه ده .

جواب: (دبل ځای څخه) په مذکوره صورت کی مذکوره ښځی ته دشریعت محمدیه په اعتبار ددوهمی نکاح اجازه سته ځکه چی مور ولی ابعدده اوپلار ولی اقرب دی اودولی اقرب په وجودکی ولی ابعد دنابالغی نکاح نسی کولی: وللولی نکاح الصغیرة والصغیر والولی العصبة بترتیب الارث (الی ان قال) وان لم تکن عصبة فالولایة للام (کنز الدقائق باب الاولیاء صفحه ۹۸) ([1]) اوپه باب الکنایات کی دی چی کم سړی دطلاقو دذکر په وخت یادښځی دخاوند څخه دطلاقو دغوښتلوپه وخت اودغصی په وخت که سړی خپلی ښځی ته ووایي چی ځه ته ولاړه سه چی چیری ستا خوښه وی، یاته زما ښځه نه یې، یا داسی نور الفاظ نوپه ښځی طلاق بائن واقع کیږی اوپه دی سره نکاح ختمیږی.

نوکه بالفرض والتقدیرمخکی نکاح صحیح ومنل سی نوددی خط اودوهم خط په الفاظو سره نکاح فسخ سوه اودشریعت محمدی په بناء اواعتبار ښځه دوهمه نکاح کولی سی.

په درمختار باب العنین کی دی چی لیکن په قهستاني کي دي چي دامام محمد په نزد که خاوند لیونی یاجذام یابرص وي نوښځی ته دفرقت اختیار سته اوداسی هرعیب چی ښځه دده سره بی ضرره نه سی پاته کیدی نوښځی ته دجلا کیدو اختیار سته ([2]). (صفحه

([1]) وګوری البحر الرائق باب الاولیاء ج۲ ص۱۲۲. ط.س. ج۳ ص۱۱۸. ظفیر

([2]) ولا یتخیر احد الزوجین بعیب الاخر ولوفاحشا کخذام وجنون وبرص ورتق وقرن وخالف ائمنا الثلاثة فی =

۲۱۳ جلد ثانی)

جواب: (دمفتی صاحب) اقول وبالله التوفيق! بی شکه دا صحیح ده چی دولی اقرب په وجودکی ولی ابعدته دنکاح دبالغی اختیارسته اوکه ولی ابعددانکاح وکړه نوداپر اجازه دولی اقرب موقوفه ده که ده اجازه ورکړه نونکاح صحیح ده کنې نوباطله به وی. په در مختار کی دی: فلو زوج الابعد حال قيام الاقرب توقف على اجازته الخ ([1]). اوپه شامی کی دی: فلا يكون سكوتها اجازةً لنكاح الابعد وان كان حاضرا فی مجلس العقد مالم یرض صراحةً اودلالةً تامل الخ (ص **۳۱۵** جلد ثانی شامی). ([2])

اودجواب دوهم جزء چی په کنایاتو سره په حالت دغصی او دمذاکراتو کي دطلاق بائن دواقع کیدو متعلق دی په دی کی داتفصیل دی چی ددوهم خط مطابق چی دمور څخه پوښتنه وکړه چي ستا څه رایه ده؟ که ستاسره ښه اوسیږی نوبیا زما ښځه ده کنې نو نه ده. په دی کی یې دښځی نه پاته کیدل دمور سره په ښه سلوك نه کولو معلق کړیدی په داسی حالت که په دی دخاوند نیت دطلاق وی اوشرط موجودسی نوطلاق رجعی واقع کیږی اودشامی دتصریح څخه معلومیږی چی په دی‌کی دلالت الحال‌کافی نه دی دخاوند دنیت ضرورت سته: وقيد بالنية لأنه لا يقع بدونها اتفاقا لكونه من الكنايات وأشار إلى أنه لا يقوم مقامها دلالة الحال لأن ذلك فيما يصلح جوابا فقط وهو ألفاظ ليس هذا منها وأشار بقوله طلاق إلى أن الواقع بهذه الكناية رجعي ([3]) الخ (ص**۴۵۳** قبیل باب طلاق غیر المدخول بها).

دارکم دشامی وغیره څخه معلومیږی چی دخاوند په عیبونو مثلا لیونتوب او برص وغیره کی مفتی به قول دشیخینو دی دامام محمد ﷫ مذهب مفتٰی به نه دی لکه چی په شامی کی دی: وقد تكفل فی الفتح برد ما استدل به الائمة الثلاثة ومحمد بما لامزيد عليه ([4]) الخ (ص**۵۹۷** ج۲ شامی) حاصل داچی صرف مخکنی وجه داسی ده چی ددی په حکم بطلان دنکاح مذکوره کیدی سی او ددوهمی نکاح اجازه کیدی سی، دې ښځی ته، اوهغه داده چی مور دنابالغی لور نکاح کړی وی اوپلار اجازه نه وی کړی انکار یې کړی وی نودا نکاح باطله سوه. فقط

= الخمسة لوبالزوج (درمختار) والظاهر ان اصلها وخالف الائمة الثلاثة فی الخمسة مطلقا ومحمد فی الثلاثة الاول لوبالزوج (ردالمحتار باب العنين ص۸۲۲ ج۲. ط.س. ج۳ ص۵۰۱). ظفیر

([1]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۲ ، ط.س. ج۳ ص ۸۱. ظفیر

([2]) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۳۳ ، ط.س. ج۳ ص ۸۲. ظفیر

([3]) وګورئ: ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۲۲۳ ، ط.س. ج۳ ص ۲۸۳. ظفیر

([4]) وګورئ: ردالمحتار باب العنين وغيره . ظفیر

چې دولي دطرفه جعلي اجازه نامه جوړه سي اونکاح وکړي نوڅه حکم دی؟ سوال:
(۱۰۳۹) اولس کاله وسوه چې زید دخپل زوی ددوستي دپاره دعمر دلور پوښتنه وکړه خو چې دزید قوم رذیل وو نو عمر دده داپیغام په تریخه واپس کی، څه موده وروسته عمر برهما ته ولاړی اودده څخه وروسته دعمر له لوري یوجعلي خط ولیکل سو چې عمر خپله لور هنده په خوشحالی دزید دزوی خالد په نکاح کی ورکوی اونکاح یي وتړله، غرض داچې دنهو کالو دهندی نکاح دخالد سره وسوه چې عمر ته ددی نکاح اطلاع وسوه نودی ډیر ناراضه سو او دایي ولیکل چې زه ددی هیڅ هم اجازت نه ورکوم او انجلۍ چې ونه لیږی، نودا نکاح شرعًا جائزسوه اوکه نه؟ څه موده وروسته چې انجلۍ بالغه سوه نودبلوغ څخه څوکاله وروسته هنده دباسط سره نکاح وکړه نودا نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: خلاصه دجواب داده چې عمر په دی نکاح راضی نه وو اودده دطرفه جعلي خط ولیکل سو اوچې عمر ته اطلاع وسوه ده انکار وکی، (۱) نوددی وجه څخه دخالد سره یي نکاح باطله ده، نو دهندی نکاح دباسط سره صحیح ده خالد په دی دښځی والی دعوه نه سی کولی اوچې دخالد سره دهندی نکاح صحیح نه سوه نو دنورو سوالونو دجواب ضرورت پاته نه سو کم چې دمخکنی نکاح پرصحیح کیدو باندي بناء دی. فقط

ددیارلسو کالو انجلۍ مخکی دبلوغ دعوٰی نه ده کړې او وروسته یي کوی، څه حکم دی؟

سوال: (۱۰۴۰) هنده چې دهغه عمر ددی مور دیارلس کاله بیان کی اوپلار یي ژوندی نه دی اوسکه اکا یي سته مور بی له رضا داکا څخه دهندی نکاح په پټه کوی اوهنده په وخت دنکاح کی سره ددی چې ددی مور وایي چې دا انجلۍ نابالغه ده دعوه دبلوغ نه کوی، اواکا چې په نکاح خبرسو نوخفه سو اوانکار یي وکی شپږ میاشتی دتعلیم او دتلقین څخه وروسته هنده دعوه کوی چې زه په وخت دنکاح کی بالغه وم دادعوه دهندی صحیح ده اوکه نه؟ اوکه دنکاح په وخت دعوٰی کول په کار وه؟

جواب: ددیارلسو کالو په عمرکی بلوغ ممکن دی، اوداعمر دمراهقت دی. اوپه درمختار کی دی چې مراهق که دعوٰی دبلوغ وکړی اوښکاره حال دده مکذب نه وی نودده قول معتبر دی: وادنٰی مدته له اثناعشرة سنة ولها تسع سنین الخ فان راهقا بان بلغاهذا السن فقالا بلغنا صدقا ان لم یکذبهما الظاهر الخ وهو ان یکون بحال یحتلم مثله والا لا یقبل

(۱) ونکاح عبد وامة بغیر اذن السید موقوف علی الاجازة کنکاح الفضولی یسیجئ فی البیوع توقف عقوده کلها ان لها المجیزحالة العقد والاتبطل (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارباب الکفاءة مطلب فی الوکیل والفضولی ج۲ ص ۴۴۹ ، ط. س. ج۳ ص۹۷). ظفیر

قوله، شرح وهبانیه، درمختار (۱). نومعلومه سوه چی دانجلۍ دعوه دبلوغ صحیح ده او ددی دعوٰی دصحت دپاره داشرط نه دی چی دنکاح په وخت دعوٰی دبلوغ وکړی بلکی وروسته دعوٰی دبلوغ صحیح ده ځکه چی دعوٰی دضرورت په وخت وی چی څوك مختلف او منکر وی. فقط

دځوارلسوکالو دانجلۍ نکاح پلار ددی دوجود څخه بغیر کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۴۱) یوه انجلۍ دځوارلسو کالو په اندازه کی دخور سره ده اوددی پلار په بریلی کی اوسیږی نودی بغیر دوجود دانجلۍ څخه بی ددی اجازته ددی نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دځوارلسو کالو په عمر کی پرانجلۍ دبالغ کیدو حکم نه کیږی چی حیض وغیره ورته نه وی راغلی او دنابالغی انجلۍ پلار ددی نکاح بغیر دوجود ددی څخه کولی سی او که انجلۍ بالغه وی اوددی پلار دیته داطلاع ورکولو څخه بغیر دانجلۍ نکاح وکړی اوچی کله انجلۍ ته خبر وسی نودا چپ پاته سی نوهم ددی نکاح وسوه غرض په دواړو صورتونو کی پلار دخپلی لور نکاح بغیر ددی دوجود څخه کولی سی اوچپ پاته کیدل به ددی اذن وی (۲). فقط

داکا زوی یي هم نکاح وکړه اومیریزی داکا زوی هم کمه به نافذ وی؟ سوال: (۱۰۴۲) دوی انجونی یوه بالغه ده اوبله نابالغه ده اودمیریزي اکا دزوی په ولایت کی دی اویو هلك چی ددی انجونی دسکه اکازوی دی اوهغه دځو میاشتو اودځوارلسوکالو دی اوس ددی میریزي اکا زوی دبالغی انجلۍ نکاح دخپل ځان سره وکړه او ددوهمی نابالغی نکاح یي دخپل زوی سره چی کم دبلی ښځی څخه دی کول غواړی او دانجونو سکه داکا زوی وايي زه بالغ یم اوزمایه ولایت سره دی زما نکاح ددی انجلۍ سره وسی نویه دی صورت کی نکاح به جائز وی اوکه نه؟

جواب: چی کله دسکه اکا زوی چی مراهق دی یعنی بلوغ ته نژدی دی، دخپل بالغ کیدو دعوٰی کوی اوپه قرائنو سره دده صدق ښکاره دی نوقول دده په باره دبلوغ کی شرعا معتبردی. کما قال فی الدرالمختار فان راهقا بان بلغا هذا السن فقالا بلغنا صدقا ان لم یکذبهما الظاهر الخ یعد اثنتی عشر سنة بشرط اخر لصحة اقراره بالبلوغ وهو ان یکون بحال یحتلم مثله والا لا یقبل الخ دمختار (۳). نوچی دسکه اکا دزوی بالغ ولایت مقدم

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الحجر فصل فی بلوغ الغلام ص۱۳۲ – ۱۳۳ ج۵، ط.س. ج۳ ص۱۵۴. ظ

(۲) او زوجها ولیها واخبرها رسوله اوفضولی عدل فسکت عن رده مختارة الخ فهو اذن (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۰ – ۴۱۱، ط.س. ج۳ ص ۵۹). ظفیر

(۳) ایضاکتاب الحجر فصل فی بلوغ الغلام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۵ ص۱۳۲ و۱۳۳، ط.س. ج۳ ص۱۵۴).

دی نه دمیریزي اکا دزوی، ددی وجه څخه چی کمه نکاح دسکه اکا زوی وکړه نوهغه صحیح ده او وروسته چی کمه نکاح دمیریزی اکا زوی وکړه نوهغه باطله ده، مخکی چی دلته نه جواز دنکاح په دی صورت کی لیکل سوی وو هغه پردی بناؤ چی په سوال کی یي دسکه اکازوی نابالغ ښکاره کړی وو نوپه دی صورت کی چی دی بالغ وی دغه جواب صحیح نه دی اودا جواب دسوال چی ولیکل سو صحیح دی. فقط

دنابالغی نکاح یي دډمی کره وکړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۰۴۲) یوسړی دخپلی نابالغی لور نکاح دڅه روپو په عوض دیوی ډمی کره وکړه دی په خپله هم دډمانو دذاته وو او اوس مړ سویدی انجلۍ داوخت دمیره مور او دمیره پلار په قبضه کی ده چی دوی ډمان نه دی اودا انجلۍ دخسر کره تلل نه غواړی ددی وجه څخه یې دتنسیخ دنکاح دعوه په عدالت کی کړیده دمجسټریټ صاحب په اشاره دواړو فریقینو دادعوه په ما پرې ایښی ده چی زه څه فیصله وکړم ه ته به منظوره وی نوزه په دی کی څه فیصله وکړم؟

جواب: انجلۍ دبالغیدو څخه وروسته دانکاح فسخ کولی سی ددی وجه څخه ته په وجه دیوحکم مسلمان دفریقینو په دوی کی تفریق وکړه په درمختار کی دی: ولزم النکاح الخ ان کان الولی ابًا وجدًا لم یعرف منهما سوء الاختیار وان عرف لا یصح اتفاقا انتهی ([1]) ملخصا وفی الشامی ثم اعلم ان مامر عن النوازل من ان النکاح باطل معناه سیبطل کما فی الذخیرة لان المسئلة مفروضة فیما اذا لم ترض البنت بعد ما کبرت کما صرح به فی الخانیة والذخیرة وغیرهما ([2]). فقط

دولی داجازې څخه بغیر دنابالغی نکاح ماما وتړله اوخلوت هم وسو نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۰۴۴) دنابالغی انجلۍ نکاح ددی ماما بی اجازته دمیریزی ورور اودپلار داکا څخه وکړه نو داحنافو په نزد دانکاح به صحیح وی اوکه نه؟ که نه وی صحیح نو دطلاق داخیستو ضرورت سته اوکه نه؟ ځکه چی انجلۍ دخاوند کره تللی ده اوخلوت صحیحه هم سویدی اومهر به لازم وی اوکه نه؟ اوپر ښځی به عده وی اوکه نه؟

جواب: داحنافو مذهب دادی چی دولی اقرب په وجود کی ولی ابعد چی دنابالغی نکاح وکړی نودا نکاح دولی اقرب پراجازه موقوفه ده اوولی اقرب په دی صورت کی میریزی ورور دی نوکه ده دنکاح خبر واوریدی اودا نکاح یي جائز وساتله نودانکاح صحیح سوه اوکه ده ردکړه نودا نکاح باطله ده ([3]) نوپه صورت داجازه به بې طلاقو دانکاح فسخ نه

([1]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ص۴۱۷ – ۴۱۸، ط.س. ج۳ ص۶۲. ظفیر

([2]) ردالمحتار باب الولی جلد ۲ ص۴۱۸ – ۴۱۹، ط.س. ج۳ ص ۶۷. ظفیر

([3]) فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولی جلد ۲ =

وی او دطلاقو څخه وروسته به عده لازمه وی اومهر لازم دی اوکه ده باطله کړی وه اوانکار یي کړی وو نوپه دی صورت کی دطلاقو ضرورت نسته خوچی موطوئة بالشبه وه نوعده باندی لازمه ده اومهر مثل به ورلره ورکوی. درمختار وغیره

<u>بالغه وایي چی جبرا نکاح سویده ماچی واوریدل نو انکار می وکی</u>: سوال: (۱۰۴۵/۱) دسوال خلاصه داده چی زید مدعی دی چی زما نکاح دبالغی هنده سره په اجازه دپلار دهندی سویده اودهندی ډولی هم زمونږ کره راغلی ده اوڅو واره خلوت هم سویدی، هنده مدعا علیها دزید مدعی سره دخپلی رضامندی اواجازې ددی نکاح څخه په قسم انکار کوی چی هیڅکله می هم دخپل ځان سره زید پروطی اوپر داعی دجماع قادر کړی نه دی اودا هم بیانوی چی کله ماته اطلاع دنکاح وسوه نوما ددی څخه انکار وکی اوناخوښی می ښکاره کړه اوبعضی قریبان دهندی ددی بیان تصدیق کوی نودزید دهندی سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: حاصل دجواب دادی چی په درمختار کی دی: لاتجبر البکر البالغة علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ (۱) الخ. نوپه دی صورت کی چی هنده په وخت داستیذان اودا رکم وروسته دنکاح څخه ددی څخه انکار کوی اوناخوښی ښکاره کوی نودا نکاح باطله سوه. بخلاف ما لوبلغها فردت ثم قال رضیت لم یجز لبطلانه بالرد الخ. (۲) درمختار، نو چی کله درد کولو څخه وروسته بیا دخپلی رضا اظهار وکړی هم نه صحیح کیږی نو په هغه صورت کی چی دبالغي سره وطی نه دي سوی نومهر هم لازم نه سو انجلۍ دبل سړی سره په کفو کی په خپله رضا نکاح کولی سی. فقط

<u>نوی مسلمانه کله نکاح وکړي</u>: سوال: (۱۰۴۶/۱) چی کله یوه ښځه مسلمانه سی او دکافر سړی څخه جلاسی نودبل سړی سره داکله نکاح کولی سی؟

<u>ښځه وایي په زړه سره می اجازه نه ده ورکړی</u>: (۲) یو سړی یوه ښځه جبری په نکاح کړه خوښځي په زړه سره اجازه نه ده ورکړی دانکاح وسوه اوکه نه؟ ښځه اوس ټولوته داوایي چی ماپه زړه سره اجازه نه ده ورکړی که خاوند کلمات دکفروواییي نوشرعًابه څه حکم وی؟

جواب: ۱/. ددری حیضو راتلو څخه وروسته دبل سړی سره نکاح کولی سی (۳). فقط

= ص۴۳۲ ، ط.س. ج۳ ص۸۱). ظفیر

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۰، ط.س. ج۳ ص ۵۸. ظفیر

(۲) ایضا ج۲ ص۴۱۲. ط. س. ج۳ ص ۷۰. ظفیر

(۳) ولواسلم احدهما ای احد المجوسین اوامر الکتابی فی دار الحرب الخ لم تبین حتی تحیض ثلاثا اوتمضی ثلاثة اشهر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۶، ط.س. ج۳ ص۱۹۱). ظفیر

۲\ . که یوه بالغه ښځه په خپله ژبه دخپلې نکاح اجازه ورکړي که څه هم په زړه کې راضي نه وي اوپه ناخوښې په ژبه اجازه وکړي نونکاح کيږي اوچې دکمې ښځې خاوند کلمات دکفر وويل نودا ښځه دده دنکاح څخه بهر سوه نوده لره تجديد دايمان اوتجديد دنکاح کول ضروري دي.

بالغه شيعه انجلۍ سني سوه په خپله نکاح کوي نوڅه حکم دي؟ سوال: (۱۰۴۷\) يوه بالغه شعيه انجلۍ په رضا اوپه مينه بې داجازې دمور اودپلار څخه ديوسني افغاني سره دځلورو شاهدانو او ديو وکيل په وجود په ذريعه دقاضي نکاح وکړه دمنکوحې مور او پلار په وجه دشيعه کيدو دخپلې لور نکاح دخاوند سره فسخ کول غواړي اوحال دادي چې دنکاح څخه مخکې يې دشاهدانوپه مخ کې اقرارکړيدی چې مااهل سنت والجماعت حنفي مذهب اختيار کړيدی او دوکيل دنکاح کيدو خواقرار سته اوزه وکيل هم سوم خو دانجلۍ دايجاب اوقبول زما غوږونوته نه دي رارسيدلي‌نوپه دې‌کې‌شرعي حکم څه دي؟

جواب: په درمختار کې دي: فنفذ نکاح حرة بالغة مکلفة بلارضاء (۱) ولي الخ وهکذا في العالمگيرية وغيرها، نوپه مسئوله صورت کې چې کله دا انجلۍ بالغه ده او سني سويده لکه چې دشاهدی څخه ثابته ده او ايجاب او قبول هم په شاهدی سره ثابت دي نو ددې نکاح دسني المذهب سره صحيح سوه او دانجلۍ مور اوپلار چې شعيه ګان دي دانکاح نه سي فسخ کولی. فقط

بدکاره ولي، ولي پاته کيږي اوکه نه؟ سوال: (۱۰۴۸\) که دانجلۍ ولي لوفر وي اوخبرنه اخلي نو دده دولايت څه حکم دي؟

جواب: يوولي که لوفر يا دخرڅ او خوراك پوښتنه نه کوي نوپه وجه دخپل منصبي فرض دې عاصي اوفاسق دی خوددې سره دده ولايت مطلقا نه سلب کيږي، اوپه خاص صورت کې دده ولايت هم سلب کيږي په هرحال په بالغه انجلۍ باندې داجبار ولايت يوه ولي ته هم نسته. فقط

نيکه يې که څه هم خبرنه وي اخيستی خو دپلار څخه وروسته ولي دنکاح هم دی دی: سوال: (۱۰۴۹\) زيد مړسو دده دلور پالنه مور وکړه نيکه اواکا يې پوښتنه هم ونه کړه اوس مور يې په خپلې مرضې سره په کفوکې نکاح کول غواړي اونيکه اواکا هلته داجازې ورکولو څخه انکاري دي اودښار قاضي ته وايي زموږ داجازې څخه بغير به نکاح نه تړې په داسې‌صورت‌کې دمورپه اجازه سره به نکاح‌کيږي اوکه دنيکه اواکااجازه ضروري ده؟

---

(۱) الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الولي ج۲ ص ۴۰۷ ، ط.س. ج۳ ص **۵۵**. ظفير

جواب: که انجلۍ نابالغه ده نودپلار دنه وجود په صورت کی نیکه ولی دی اوبیا دنیکه څخه وروسته اکا ولی دی ددوی په وجود کی مورته اختیار دنابالغی دنکاح نسته که څه هم ددی پالنه مور کړی وی نوچی کله ولی ددی نابالغی دنکاح ددی نیکه اواکا دی نوکه دوی قاضی نکاح تړونکی دنکاح څخه بندکړی نودوی حق په جانب دی قاضی لره په دی حالت کی بی ددوی داجازی څخه نکاح تړل جائزنه دی اودا به نکاح نه وی (۱). فقط

دنابالغی کونډۍ نکاح ددی خوابنی وکړه خو مور بنده کړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۰۵۰) دیوی نابالغی انجلۍ نکاح چې هنده یې نوم دی ددی خوابنی وکړه دانجلۍ مورخپله لور راوستله او وروسته دبالغیدو څخه یي ددی په اجازه ددی نکاح بل ځای وکړه نودا نکاح جائز سوه اوکه نه؟

جواب: دنابالغی دنکاح دصحت دپاره ولی شرط دی (۲) نو دنابالغی خوابنی چی کمه نکاح کړی وه هغه ددی انجلۍ دمور پراجازه موقوفه وه که دی اجازه ورنه کړی نودا نکاح باطله سوه اوس چې دانجلۍ په رضا ددی مور کمه نکاح وکړه صحیح ده. فقط

قاضی ته چی کله معلومه سی چی انجلۍ راضی نه ده نوڅه وکړی؟ سوال: (۱۰۵۱) که قاضی ته معلومه سی چی کم ځای دبالغی انجلۍ اولیاء نکاح کول غواړی اوانجلۍ هلته په نکاح کولو راضی نه ده نوده لره څه په کاردی ؟

جواب: په دی صورت کی قاضی لره احتیاط کول په کاردی اودانجلۍ ولی ته دی صفا ووایي چی بی داجازی دبالغی ددوی نکاح نه صحیح کیږی، ته ددی خیال وساته خو دبالغی سکوت دولی په نکاح کولو که څه هم داراضی نه وی دجواز دنکاح دپاره کافی دی (۳) وتفصیله فی کتب الفقه. فقط

دولی او دوکیل داجازې دغوښتلو په وخت دانجلۍ کمه کمه اداء اجازه ده؟ سوال: (۱۰۵۲) (۱) دولی دپاره (په شان دپلار او نیکه) دبالغی باکری لور څخه په وخت داجازی د نکاح

---

(۱) الولی في النکاح العصبة بنفسه علی ترتیب الارث والحجب فان لم تکن عصبة فالولایة للام (درمختار) ثم یقدم الاب ثم ابوه ثم الاخ الشقیق الخ (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷ – ۴۲۸. ط.س. ج۳ ص۷۲). ظفیر

(۲) وهو ای الولی شرط صحة نکاح صغیر ومجنون (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۷ ، ط.س. ج۳ ص۵۵). ظفیر

(۳) أو زوجها ولیها واخبرها رسوله اوفضولی عدل فسکت عن رده مختارة الخ فهواذن (درمختار) قوله عن رده قید به إذ لیس المراد مطلق السکوت لأنها لو بلغها الخبر فتکلمت بأجنبي فهو سکوت هنا فیکون إجازة فلو قالت الحمد لله اخترت نفسي أو قالت هو دباغ لا أریده فهذا کلام واحد فهو رد، قوله: مختارة اما لو اخذها عطاس اوسعال حین اخبرت فلما ذهب قالت لاارضی اواخذ فمها ثم ترك فقالت ذالك صح ردها لان سکوتها کان عن اضطرار (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۰ – ۴۱۱، ط. س. ج۳ ص۵۹). ظفیر

داجازی دپاره دا امورکافی دی ضحك بکاء بلاصوت وغیرها اوکه نه تکلم ضروری دی؟
۲\ ولی که وکیل جوړ کړی دطلب داجازی دنکاح نو دوکیل من الولی دپاره به هم هغه امور کافی وی چی کم دولی دپاره وه اوکه ددی وکیل دپاره به تکلم ضروری وی؟
۳\ وکیل یا ولی که اجنبی غیر محرم دی نودده دپاره په صورت دکفایت ددی امورو چی کم دولی دپاره کافی دی ددی پخپله مشاهده کول ضروری دی اوکه که یوه ښځه ددی متعلق خبر ورکی کافی به وی؟

جواب: ۱\، ۲، ۳: دباکری بالغی سکوت، ضحك، بکاء بلا صوت اذن دی چی کله اجازه غوښتونکی ولی وی اویا دده وکیل یا قاصد وی که څه هم وکیل اجنبی غیر محرم وی چی کله دا امور مذکوره ده ته په ذریعه دخبر معلوم سی که څه هم په ذریعه دمعتبری ښځی وی خوپه دی حالت کی په صورت دانکار دبالغی به دیوی ښځی یا ددوو سړیو بیان کافی نه وی: قال فی الدرالمختار فان استاذنها هو ای الولی الخ اووکیله اورسوله اوزوجها ولیها واخبرها رسوله او فضولی عدل فسکتت اوضحکت اوبکت بلا صوت (۱) الخ انتهی ملخصا. فقط

<u>په ژبه سره چی کله ولی وویل نودزړه اعتبار نسته</u>: **سوال**: (۱۰۵۳\) دفاطمی انجلۍ نکاح ددی مور په عمر دلسو کالو کی په وکالت دعزیز احمد چی دانجلۍ په قریبانو کی لیری اکا دي دخپل یوقریب لائق علی سره وکړه اوس داویل کیږی چی دانجلۍ دمور په ولایت اوپه اجازه چی کمه نکاح وسوه داجائز نه ده بلکه دعزیز احمد په ولایت اوپه اجازه پکار وه دعزیز احمد داخیال دډیری مودی داسی وو چی دمذکوره انجلۍ نکاح زما دزوی سره وسی ددی وجه څخه عزیز احمد دا مشهوروی چی نکاح زما په اجازه نه ده سوی اوما وکالت په زړه سره نه وو کړی بلکه په ښکاره هو! می کړیده، نوپه داسی حالت کی دا نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: چی مذکوره نکاح په وکالت دعزیز احمد سویده چی دنابالغی ولی دی نودا نکاح منعقد اوصحیح سوه اودعزیز احمد به هیڅ عذر نه اوریدل کیږی. فقط

<u>نیکه دبوډاتوب په وجه ذی رایه پاته نه دی نواکا ولی کیدی سی اوکه نه؟</u> سوال: (۱۰۵۴\) یوه انجلۍ چی ددی عمر لس کاله دی ددی پلار مړدی اونیکه یي سته اوسکه اکایې هم سته دنیکه یي داحال دی لکه چی خوك لیونی وی دخپل اولادپه نفع اونقصان نه پوهیږی اوس دانجلۍ سکه اکا غواړی چی زه په خپل ولایت سره دانجلۍ عقدوکړم نوشرعا به دا

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۰، ط.س. ج۳ ص۵۸. ظفیر

نکاح جائزوی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دنیکه ولایت ساقط دی اواکاته ولایت دنابالغی دنکاح صحیح دی په درمختار باب الولی کی دی: هو البالغ العاقل الخ ولو فاسقا علی المذهب مالم متهتکا الخ (۱) وفیه لزم ولو بغبن فاحش او بغیر کفو ان الولي المزوج ابا او جدا ما لم یعرف منهما سوء الاختیار وان عرف لا یصح (۲). فقط

نشیی پلار دخپلی نابالغی لور نکاح په غیر کفو اوپه کم مهر کی کړیده، څه حکم دی؟ سوال: (۱۰۵۵) یوسړی نشیی صرف دخپلی نفسانی طمع دپاره دخپلی لور نکاح دخپل خاندان په کمي مرتبې کی دیو داسی کم عمره هلك سره وکړه چی دهغه په بالغیدو کی اوه اته کاله موده سته اوانجلۍ په دی وخت کی بالغه ده اومهر هم ډیرکم مقرردی، نوپه داسی صورت کی دپلار تړل سوی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق: دصاحب دفتح القدیر دتحقیق څخه دامعلومیږی چی پلار په سوء اختیار باندی دمشهور کیدو څخه مخکی کمه نکاح کړیده هغه صحیح ده لکه چی دعبارت: مالم یعرف منهما سوء الاختیار وان عرف لا یصح، څخه ښکاره کیږی اودمهر حال دادی چی په بعضو قومونو کی مهر دومره زیات مقررول رائج دی چی یوعاقل داهم نه خوښوی او دمغالاة دمهر څخه نهی صراحةً سته، نوکه پلار موافق دسنت طریقی فرض کړه مهر مقرر کړی وی او دنابالغ خاوند سره یې نکاح کول په راتلونکی وخت کی دلور دفائدی دپاره کړی وی نو دده دانکاح ته به سوء الاختیار نه ویل کیږي، اوپه دې سره دده په سوء الاختیار باندي موصوف کیدل هیڅکله نه متحقق کیږي، البته که یې په حالت کي دنشې یاپه شوق دنشې سره دا نکاح کړی وی نوصحیح به نه وی. کما فی الدرالمختار: وکذا لوکان سکران الخ وفی الشامی وهذا مفقود فی السکران وسیئ الاختیار اذا خالف (۳) الخ. فقط

مرزایي پلار دنابالغی ولی نه سی کیدي: **سوال**: (۱۰۵۶) یوه پیغله عاقله بالغه انجلۍ (چی دهغه نیکه، پلار اونور قریبان سته) خپل نیکه ولی کی اوخپله نکاح یې دخاندان دیوهلك سره موافق دشریعت وکړه دانجلۍ پلار دڅه موده راهیسی مرزایي سویدی، هغه وایي چی زه دا یومرزایي ته ورکوم قادیان والاوو حکم کړی دی چی که هلك مرزایي

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۲، ط.س. ج۳ ص۵۴. ظفیر

(۲) ایضاً ج۲ ص ۴۱۷ ، ط.س. ج۳ ص ۶۶. ظفیر

(۳) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۹، ط. س. ج۳ ص۶۷ وکذا (ای لایصح النکاح) لوکان سکران فزوجها من فاسق اوشریراوفقیراوذی حرفة دنیئة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۸، ط. س. ج۳ ص۶۷).

مذهب اختيار كړي نوبيا ورلره انجلۍ وركول كيدى سى په دى صورت كى چى نكاح دانجلۍ دنيكه په ولايت سويده جائزده اوكه نه؟

جواب: په دى صورت كى اول خوانجلۍ بالغه ده په خپله ددى په اجازه په كفوكى ددى نكاح صحيح ده دځه ولى ضرورت نسته لكه چى په درمختار كى دى: وهو اى الولى شرط صحة نكاح صغير الخ لا مكلفة فنفذ نكاح حرة مكلفة بلا رضى ولى [1] الخ. دوهم داچى كه دولى په ذريعه ددى نكاح وسى لكه چى داسنت دى نوپه دى صورت كى ددى ولى ددى نيكه دى دپلار دمرزايي كيدو په وجه ولايت باطل سو [2]، نونيكه چى دبالغى په اجازه سره كمه نكاح كړيده هغه صحيح ده پلار ته ددى نكاح دماتولو اوپه بل ځاى كى دنكاح كولو اختيار نسته او دمرزايي هلك سره به يي نكاح صحيح وى حاصل داچى كمه نكاح دنيكه په ولايت وسوه هغه صحيح ده او دقاديان والاو حكم باطل دى. فقط

<u>عصبه چى دكم پشت څخه هم وى دهغه په وجود مور ولى نه ده</u>: **سوال**: (۱۰۵۷) كه ديوى نابالغى يوعصبه دپنځم پشت وى نودمور تړل سوى نكاح به جائز وى اوكه نه؟ اودا نابالغه وروسته دبالغيدو څخه دانكاح فسخ كولى سى اوكه نه؟

جواب: چى دنابالغي يوعصبه ديو پشت هم موجود وى نومور دنكاح ولى نه ده كه په داسى حالت كى مور دنابالغى نكاح وكړى نودا نكاح به ددغه عصبه پراجازه موقوفه وى كه دى اجازه وركړي نودانكاح به صحيح وى اوكه انكار وكړى نودابه باطله [3] وى اوكه عصبه ولى دانكاح جائز وساتى نونابالغى ته دبالغيدو څخه وروسته به اختيار وى چى ددې نكاح فسخ كړى خودايي په ذريعه دقاضى اودحاكم فسخ كولى سى په خپله يې نه سى فسخ كولى [4] كذا فى الشامى. فقط

<u>مخكى نكاح صحيح ده اوتعليق كالعدم دى</u>: **سوال**: (۱۰۵۸) دزيد پلار دزيد په مخكى دده دلور نكاح دشاهدانو په مخكي دعمر دزوى سره وكړه زيد چپ اوخاموش وو اوس

---

[1] الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الولى ج۲ ص ۴۰۷ ، ط.س. ج۳ ص ۵۵. ظفير

[2] مرزايي مرتد اوكافر دى نوددى وجه دى ولى نه سى كيدى دولايت دپاره اسلام شرط دى. بشرط حرية وتكليف اسلام فى حق مسلمة تريد التزويج وولد مسلم لعدم الولاية (درمختار) يعنى يعنى ان الكافر لايلى على المسلمة وولده المسلم لقوله تعالى: وَلَنْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلاً. (ردالمحتار باب الولى ج۲ ص ۴۴۸ – ۴۲۹ . ط.س. ج۳ ص ۷۷). ظفير

[3] الولى فى النكاح العصبة بنفسه على ترتيب الارث والحجب الخ فان لم يكن عصبة فالولاية للام الخ فلو زوج الابعد حال قيام الاقرب توقف على اجازته (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الولى ج۲ ص ۴۲۷ – ۴۳۲ ، ط. س. ج۳ ص۷۶). ظفير

[4] ولهما اى لصغير وصغيرة خيار الفسخ بالبلوغ الخ بشرط القضاء للفسخ، ايضا ج۲ ص۴۲۰، ط.س. ج۳ ص۶۹.

دری میاشتی وروسته ناراضه سو اوپه دغه حالت کی وایي که دعمر زوی ته مي دوستي ورکړه نوپر مابه زما ښځه په دری طلاقو حرامه وی اوس که یوسړی تعلیم یافته زید ته تسلي ورکړی چی ستا دلور شرعی نکاح دعمر دزوی سره سویده ستا داتعلیق لغودی ته که په غرض دتشهیر دوباره نکاح تازه کوی نوڅه خبره نسته زید په ده اعتماد وکی او دوباره یي دخپلی لور نکاح دعمر دزوی سره وکړه آیاپر زید منکوحه دزید حرامه سوه او که نه؟

جواب: فلوزوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته الخ درمختار (۱)، قال الشامی فلا یکون سکوته اجازة لنکاح الابعد وان کان حاضرا فی مجلس العقد ما لم یرض صریحًا اودلالة شامی (۲) ص**۳۱۵** ج۲. نوکه زید صراحةً یادلالةً دخپلی رضا اظهار وکی مثلاً خپله لور یې په خوشحالی دخاوند کره لیږلی وی یایي مهر طلب کړی وی وغیره نو دزید دپلار تړل سوی نکاح صحیح ده اودوباره دزید نکاح کول لغو اوفضول دی، او کالعدم دی ددی وجه څخه پرده به خپله ښځه طلاقه نه وی لعدم تحقق الشرط اوکه زید صرف سکوت کړی وی اجازه یي نه صراحةً اونه دلالةً کړی وی نوبیامخکی نکاح منعقده نه سوه نوزید چی کمه نکاح وکړه هغه صحیح سوه اوشرط ددری طلاقو موجود سو دده ښځه په دری طلاقو طلاقه سوه. فقط

پلار دنشي په حالت کی دبالغی لور نکاح وکړه نودا نکاح وسوه اوکه نه؟ سوال: (۱۰۵۹/۱)

دیوی ښځی نکاح په کوچنی والی کی سوی وه دانجلۍ پلار دغه وخت په نشه کی وو نو دا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟ دبالغیدو څخه وروسته انجلۍ دخاوند کره نه ده تللی او مقدمه عدالت ته ولاړه دانجلۍ پلار داثابته کړه چی نکاح نه ده سوی خوسوی ضروری وه اوعدالت نکاح فسخ کړه اوخاوند طلاق ورنه کی اوس ښځی دوهمه نکاح کړیده دا نکاح جائزده اوکه نه؟ اوچی کم خلګ په دی نکاح کی شریك سوی وه دهغوی څه حکم دی؟

جواب: که داتسلیم سی چی نکاح ضروری سوی وه اوپلار چه نکاح کوونکی وو په نشه کي وو خو نکاح په کفو کي سوی وه او په مهر مثل سوی وه نو نکاح صحیح سوه په دی صورت کي داول خاوند دطلاق څخه بغیر دویمه نکاح به صحیح نه وی لکه چه په شامی کي دی: ومقتضی التعلیل ان السکران او المعروف بسوء الاختیار ولو زوجها من کفو بمهر المثل صح لعدم الضرر المحض الخ ص**۳۰۵** ج۲ شامی. (۳) نو چه کمه فتوی دویم

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲، ط. س. ج۳ ص۸۱. ظفیر
(۲) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۳، ط. س. ج۳ ص ۸۱. ظفیر (۳) ایضاً ج۲ ص۴۱۹ ط. س. ج۳ ص۶۷. ظفیر

فريق دعدم دجوازدنكاح ثاني بغيرداول خاوند دطلاقو اوبغير دعدت تيريدو وركړيده او د ا چه نكاح اول صحيح ده په سبب دكفوكي دكيدو دا فتوی صحيح ده او موفق ده دكتابونو دفقه درو ايتونو، او چه كم خلق په نكاح ثاني كي شريك سويدی ددوی نكاح نه ده ماته خو كه سره ددې علمه چه دی ښځي ته اول خاوند طلاق نه دی وركړی په نكاح ثاني كي شريك سو نو گهنگار سو نو توبه دی وكړی.

دانا (دپلار مور) كړی دوستي لمسی ته خوښه نه ده: **سوال:** (۱۰۲۰) ديوی نابالغي جينۍ انا دخپل قوم يو هلك ته ددی دوركولو اراده كړی وه، اوس انا مړه سويده او دجينۍ پلار ژوندی دی ده دجينۍ ماما وكيل دنكاح جوړكړيدی اوجينۍ ځوانه ده اودانا په كړی دوستي باندي خوښه نه ده اوبل ځای نكاح كول غواړی نودا جائز ده اوكه نه؟

جواب: چه كله جينۍ بالغه سوه اودانا دوستي يعنی كوزده نه منظوروی نو دلته نكاح كول جائز نه دی چه كم ځای دجينۍ رضا ده په كفوكي نو نكاح دی وكړی او مخكی چه كمه كوزده سويده نو دغه نكاح نه ده سوی بلكه دا په ظاهره وعده دنكاح وه اوانا په وجود دپلاركي دنابالغی دنكاح ولايت هم نه سی كولی، هكذا فی كتب الفقه

پلار نكاح وكړه بيا جينۍ دبالغيدو دعوی وكړه او نكاح ئی وكړه نو كمه نكاح به جائز وی؟

سوال: (۱۰۲۱) زيد دخپلي لور هنده دخالد دزوی بكر سره دوستي وكړه او جينۍ دخپل انا اومور سره اوسيږی زيد سخت بيمار سو ددی وجه څخه دخپلي لور هنده عقديې دعمر دزوی وليد سره وكړی په خپل ولايت او جينۍ ته ئی بمبی ته خبر وروليږی چه دهنده عقد ئی دعمر دزوی وليد سره وكړی، انا يې دځه وجوهو څخه نارضا وه او ددی عقدئی دهم هغه هلك بكر سره وكړی چه دهغه سره پلار مخكی دوستي كړی وه او پلار ته ئی خبرو وركړی، جينۍ خپل عقد په خپله دبكر مذكورسره وكړی او په وجه دبالغيدو ددی چاته دولايت ضرورت نسته دغه وخت دجينۍ عمر تقريبا يوولس كاله وو څو ورځی وروسته بكر هنده خپل كورته راوسته دوه نيم دری كاله وروسته مړ سو چه كله دجينۍ هندې ددويم عقد تياری وسوه نو نه ده معلومه چه جينۍ په كم مصلحت بيان وكړی چه انا چه زموږ عقد كم دبكر سره كړی وو په دغه وخت كي زه بالغه نه وم دخلقو په لمسون ما دخپل بالغ كيدو اقرار كړی وو، زه خو دبكر سره دنكاح كولو څخه وروسته بالغه سوی وم آيا په داسي حالت كي چه پلار كمه نكاح دوليد سره كړی وه هغه به صحيح گڼل كيږی اوكه دانا عقد كه نكاح دوليد سره صحيح سوی وی نو اوس په دويم ځای كي دنكاح دپاره دوليد دطلاقو ضرورت دی اوكه دفسخ دنكاح ځكه چه وليد اوس دا په خپله نكاح كي نه ساتی او وليد په دې وخت كي مراهق دی؟

جواب: مسئله داده چه که هنده په وخت دنکاح چه ددی پلار دولید سره کړی وه نابالغه وه نو دپلار تړل سوی نکاح صحیح سوه او دا نه سی فسخ کیدی اوکه په حقیقت کي هنده بالغه وه او پلار چه کمه نکاح ددی دولید سره کړی وه او دی په اوریدو سره خاموشی اختیار کړه نوبیا هم ددی نکاح دولید سره صحیح سوه البته که دې ته دپلار دنکاح کولو خبر نه وو یاپه خبر رسیدوسره دی انکار وکی اوهم په دی حالت ئی په خپلي رضا سره دبکر سره نکاح وکړه نو دبکر سره نکاح صحیح سوه، دبکر دمرګ څخه وروسته دوهمه نکاح چه کم ځای دا خوشحاله وی کیدی سی او واضحه دی وی چه که هنده په وخت دنکاح دبکر مراهقه وی او ده اقرار دخپل بالغ کیدو کړی وو نو دا به بالغه ګڼل کیږی بیا دبالغ کیدو څخه ددی انکار به معتبر نه وی نو په دې حالت کي چه کله دی دپلار نکاح ناخوښه کړه او انکار ئی وکړی یا ئی دخبر څخه وړاندی دبکر سره نکاح په خپله اجازه کړی وه نودبکر سره نکاح صحیح وه دولید دطلاق ضرورت نسته ځکه چه دا نکاح نه وه سوی اونه دقاضی وغیره په ذریعه فسخ دنکاح ته ضرورت سته اونه دطلاقو دمراهق دمسئلي معلومولو ضرورت سته او نابالغ که څه هم چه مراهق وی دده طلاق نه واقع کیږی کذا فی عامه کتب الفقه، نو اوس که دولید سره نکاح کول مناسب او مصلحت وی نو ودی کړی کنې دبل چاسره دی دهنده نکاح وسی، په درمختار کي دي: فان راهقا بان بلغا هذا السن فقالا بلغنا صدقا ان لم یکذبهما الظاهر [۱] الخ. فقط

دنابالغی نکاح چه کم ولی وکړه نوهغه صحیح او وروسته باطله ده: **سوال**: (۱۰۶۲) دیوې جینۍ بالغی دوه ولیان مساوی دی، ددی جینۍ سره دوو سړیانو دنکاح دعوه کړیده او هریو خپل سند یو یو ولی ته رسوی او اولیاؤ هم اقرار وکی او په حقیقت کي چه دکم سړي نکاح وروسته سوی وه په عدالت کي یې خپله نکاح مخکی کیدل ثابت کړل او جینۍ هم دبلوغ څخه وروسته دده سره رضامنده ده نو اوس دا جینۍ اول خاوند ته رسیدل پکار دی که نه دویم خاوند ته؟

جواب: په در مختار کي دی: ولو زوجها ولیان مستویان قدم السابق الخ [۲] نو چه کم ولی مخکی نکاح کړیده هغه صحیح ده او دا جینی دمخکنی خاوند ده او همده ته یې رسیدل پکار دی او چه چا وروسته نکاح کړیده هغه باطله ده تر هغه چه اول خاوند بالغ سوی نه وي اوده طلاق نه وي ورکړی نوتر هغه پوري به ددوهم خاوند سره نکاح صحیح نه وي. (په غلطه طریقه باندي دمخکي والی په ثابتولو سره حکم نه بدلیږي. ظفیر)

---

(۱) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارباب الحجرفصل فی بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲ ط.س. ج۳ ص۱۵۴. ظفیر

(۲) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارباب الولي ج۲ ص۴۳۲ ط.س. ج۳ ص۸۱. ظفیر

دوهم فصل

مسائل او احکام دفسخ دنکاح

دبهار دشریعت امیر اوقاضی ته دفسخ دنکاح اختیارسته اوکه نه؟سوال:(۱۰۲۳) امیر شریعت اودده قاضیان چې کم په بهار کې مقرردی حق دفسخ دنکاح وغیره ورته حاصل دی اوکه نه؟

جواب: مذکوره امیر دشریعت اودده قاضیانو ته حق دفسخ دنکاح وغیره حاصل دی لکه چې دشامی ددی عبارت څخه واضحه ده: ویصیر القاضی قاضیا بتراضی المسلمین الخ ([1]). فقط

داسلامی ریاست قاضي او هندوستاني عالم فسخ دنکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۲۴)

(۱). داسلامی ریاست قاضی په خیار بلوغ کې دنکاح دفسخ حکم کولی سی اوکه نه؟

(۲) اویو عالم په موجب دروایت دفتاوٰی تنقیح حامدیه چې: لان فتوٰی الفقه للجاهل بمنزلة حکم القاضی الخ هرحکومت دسرکار په خیار بلوغ کې دنکاح دفسخ حکم کولی سی اوکه نه؟

جواب: ۱\. په خیار بلوغ وغیره کې داسلامی ریاست قاضی دنکاح دفسخ حکم کولی سی داسلامی ریاست قاضی ته رجوع پکار ده اوهم ددی قاضی په ذریعه فسخ پکارده ځکه چې بی شکه هم داحق ([2]) امردی. فقط

۲\. اودفتاوٰی تنقیح حامدیه روایت پردی محمولول پکاردی چې که داعالم فریقین حکم ومنی نودده حکم به نافذ وی ([3]). فقط

مسلمان حاکم دقاضی قائم مقام کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۲۵) حاکم چې دسرکار دطرفه دی که دی مسلمان وی نودی قائم مقام دقاضی کیدی سی اوکه نه؟ اونکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟

---

[1] ردالمحتار کتاب القضا مطلب فی حکم قوله تولیة القضاة فی بلاد تغلب علیها الکفار ج۴ ص۴۲۷ ط. س. ج۵ ص۳۶۹. فیجب علیهم ان یلتمسوا والیا مسلما منهم الخ. وروسته داهم دی: وفی الفتح وإذا لم یکن سلطان ولا من یجوز التقلد منه کما هو في بعض بلاد المسلمین غلب علیهم الکفار کقرطبة الآن یجب علی المسلمین أن یتفقوا علی واحد منهم، ویجعلونه والیا فیولی قاضیا ویکون هو الذي یقضي بینهم (ایضا). ظفیر

[2] اسلامی ریاست په خپلو داخلی معاملاتو کې خودمختاره کیږی اودده مقرر سوی قاضی دشرعی قاضی په حکم کې دی: ویجوز تقلد القضاء من السلطان العادل والجائر ولوکافرا (درمختار) في التتارخانیة الإسلام لیس بشرط فیه أي في السلطان الذي یقلد وبلاد الإسلام التي في أیدي الکفرة لاشك أنها بلاد الإسلام لا بلاد الحرب لأنهم لم یظهروا فیها حکم الکفر والقضاة مسلمون والملوك الذین یطیعونهم عن ضرورة مسلمون (ردالمحتار کتاب القضاء ج۴ ص۴۲۷ ، ط.س. ج۵ ص۳۶۹). ظفیر

[3] تولیة الخصمین حاکما بینهما الخ وشرط من جهة المحکم بالفتح صلاحیة للقضاء کمامر (درمختار) ای فی الباب السابق قوله والحکم کالقاضی (ردالمحتار باب التحکیم ج۴ ص۴۸۳، ط.س. ج۵ ص۴۲۸). ظفیر

جواب: حاکم چې دسرکار دطرفه مقرروی نوقائم مقام دقاضی دی. کما صرح به فی رد المحتار: وتجوز تقلد القضاۃ من السلطان العادل والجائز ولو کافرا وذکرہ مسکین وغیرہ الا اذا کان یمنعه من القضاء بالحق الخ (۱). فقط

په موجوده زمانه کی دحاکم دقاضی کار اخیستل څنګه دی؟ سوال: (۱۰۲۶) که په موجوده زمانه کی دیوی مسئلې دپاره دقاضی ضرورت وی نوباید څه وسی یعنی فسخ دنکاح وغیره، آیا دموجوده زمانی حاکم یا یوعالم قاضی کیدی سی؟

جواب: دفقهاؤ دلیك مطابق مسلمان حکم دفریقینو قائم مقام دقاضی کیدی سی اوحاکم دعدالت چې مسلمان اختیار والا وی لکه حج وغیره دی هم قائم مقام دقاضی کیدی سی چې ددوی فیصله معتبره ده (۲). فقط

دمسلمان جج په وړاندې ددروغو دعوٰی وسوه او نکاح یې فسخ کړه نو ددې اعتبار نسته:

سوال: (۱۰۲۷) زید په مجمع عام کی دیوې ښځی سره نکاح وکړه زید پردی وطن ته ولاړی، نوښځی دلته مسلمان جج ته درخواست وکی چې زما نکاح دزید سره نه ده سوی په دی باندی جج نکاح فسخ کړه نودا نکاح فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح فسخ نه ده ښځه دزید په نکاح کی ده ترڅو چې زید ورته طلاق نه وی ورکړی دوهمه نکاح نه سی کولی (۳). فقط

دمسلم حاکم په ذریعه نکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟ السوال: (۱۰۲۸) یتیمة عمها في الکفر فلما بلغت مبلغ النساء قالت علی الفور اني غیر راضیة بنکاح العم وفسختها بمحضر اختین لها فرفعت تلك الحادثة في اجلاس حاکم الوقت المسلم (جج صاحب) وبرهنت بشاهدین کاذبین احیاءًا لحقها وبرهن العم انها اظهرت انکار التفسیخ بعد ستة اشهر تقریباً من وقت البلوغ فحکم ذلك الحاکم بفسخ النکاح تعویلاً علی انکارها هل بعد ذلك الحکم قضاءًا شرعیاً ام لابد للفسخ الشرعي من نصب قاض یحکم بالقسط بینوا تؤجروا

الجواب: حکم الحاکم بفسخ النکاح فی هذه الصورة صحیح نافذ والروایات الفقهیة منقولة فی جواب مولانا قطب الدین فعندنا ذالك الجواب وما کتب مولانا محمد اشرف علی مُسَلَّمٌ صحیح حق. فقط

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب القضاۃ مطلب للسلطان ان یقضی بین الخصمین ج۴ ص۴۲۷، ط. س. ج۵ ص۲۳۸. ظفیر

(۲) تولیة الخصمین حاکما یحکم بینهما رکنه لفظ الدال علیه مع قبول الاٰخر من جهة الحکم صلاحیة للقضاء کما مر (درمختار) والحکم کالقاضی (ردالمحتار باب التحکیم ج۴ ص۴۸۲. ط.س. ج۵ ص۴۳۸). ظفیر

(۳) یوه ثابته سوی نکاح ددروغو په دعوٰی او په فیصله نه ختمیږی ددی نکاح چې کله سویده نودا دعوٰی کول چې زموږ نکاح نه ده سوی دروغ ویل دی. ظفیر

چې عالم حکم جوړسي نودقضاء دقاضي شرط پوره کيدی سي اوکه نه؟ سوال: (۱۰۶۹) په خيار بلوغ کی چې قضاء دقاضی شرط ده اوپه دی زمانه کی قاضی نسته نوڅه کول پکار دی؟ ايا که يو دفريقينو يوعالم خپل حکم کړی نوکار به وسی اوکه نه؟

جواب: چې شرعی قاضی نسته نومسلمان حکم دفريقينو نکاح فسخ کولی سی خودحکم دپاره ددواړو فريقينو منل ضروری دی [1]. فقط

انجلۍ په خيار بلوغ کی په ذريعه دمسلمان حاکم نکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۷۰) ديوی نابالغی انجلۍ نکاح دپلار نيکه څخه علاوه بل چا کړی وه نوانجلۍ دبلوغ څخه وروسته ددی نکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟ که مسلمان حاکم فسخ دنکاح وکړی نودا به صحيح وی اوکه نه؟

جواب: مسئله داده چې نابالغه انجلۍ چې دهغې نکاح دپلارنيکه څخه علاوه بل چاتړلی وه نوانجلۍ دبلوغ څخه وروسته دانکاح فسخ کولی سی خو ددی فسخ دپاره قضاء دقاضی يعنی حکم مسلمان شرعی حاکم ضروری دی دکافر په حکم سره به مذکوره نکاح نه فسخ کيږی اوچې کم حاکم دکفارو مقرر کړده دی دهغه حکم په همدی باره کی کافی دی اونکاح به فسخ سی. [2] فقط

په دی زمانه کی چې مسلمان حاکم نسته نو دقاضي دقضاء شرط به څنګه پوره کيږی؟ سوال: (۱۰۷۱) دصغير اودصغيرة نکاح ددوی ولی کړی وه دصغير نکاح په ولايت دپلار اودصغيره نکاح په ولايت داکا سوی وه انجلۍ بالغه سويده اوهلك نابالغ دی اوپه وخت دبلوغ يي عدم رضا ښکاره کړيده په شرح الوقايه کی دی: وفی غيرهما فسخ الصغيران حين بلغا الخ وشرط لقضاء بفسخ من بلغا الخ که دانجلۍ دطرفه فسخ کيدی نوقضاء دقاضی نن صباء څنګه ممکنه ده آيا جمعية العلماء ياخلافت کميټۍ يا عدالت فسخ کولی سی؟

جواب: ددی فسخ دپاره قضاء دقاضی شرط دی لکه چې دشرح وقايه دعبارت منقوله اود نورو کتابونو دفقه پردی دلالت کوی اوپه صورت دنه موجوديدو دقاضی حکم فسخ نه سی کيدی اوکه خلافت يا دجمعية العلمآء دطرفه محکمـــه دقضـاء شرعی مقرره سی او

---

[1] هوتولية الخصمين حاكما يحكم بينهما وركنه لفظ الدال عليه مع قبول الاخر ذلك الخ وشرطه من جهة المحكِم بالكسر العقل لا الحرية ومن جهة المحكَم بالفتح صلاحية للقضاء كمامر (درمختار) اى في قوله: والحكم كالقاضي (ردالمحتار باب التحكيم ج۴ ص۴۸۲، ط. س. ج۵ ص۴۲۸) واما الحكم فشرطه اهلية القضاء ويقضى فيما سوى الحدود والقصاص (ايضا ج۴ ص۴۱۳، ط.س. ج۵ ص۳۵۴). ظفير

[2] ويجوز تقلد القضاء من السلطان العادل والجائر ولو كافرا (درمختار) فى التتار خانية الاسلام ليس بشرط فيه اى فى السلطان الذى يقلد (ردالمحتار كتاب القضاء ج۴ ص۴۲۷، ط.س. ج۵ ص۳۶۸). ظفير

قاضی مقرر سی نودده حکم هم نافذ کیدی سی او فسخ کولی سي. (۱) فقط

فسخ دنکاح په ذریعه دعدالت دسرکار یا دقوی جرګی: **سوال**: (۱۰۷۲) په صورت دفسخ دنکاح چی په خیار دبلوغ وی دپاره قضاء دقاضی شرط ده خوپه هندوستان کی قضاء دقاضی نسته، نودلته دضرورت په بناء دحاکم وخت حکم په باره دفسخ دنکاح کی معتبر دی اوکه نه؟ یاپه قوی عدالتونو کی دیو مسلمان عالم حکم په دی باره کی شرعا صحیح وی اوکه نه؟

جواب: دکافر حاکم وخت حکم اوقضاء په باره دفسخ دنکاح کی معتبر دی (۲) اوپه قوی عدالتونو کی چی کم قاضی مقرر سوی دی دهغه حکم صحیح (۳) دی (دارنګه دمسلمان حاکم په ذریعه هم فسخ کیدی سی لکه چی مخکی تیرسوه. ظفیر)

افسرته دفسخ دنکاح اختیار سته اوکه نه؟ سوال: (۱۰۷۳) په دې علاقه کی ګرو اوقاضی افسر نکاح تړونکی مقرر دی، چی دوی دنکاح تړونکو درجسټرونو معائنه کوی چی یوه نکاح ناجائز ونه سی ایاچی کمه نکاح ناجائز وی نوچی دی دافسخ کړی نوبله نکاح په خپل اختیار تړلی سی اوکه نه؟ چی کمه نکاح په عده کی وسوه ددی ښځه وروسته بله نکاح کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: داخلګ صرف دانتظام دپاره دی دوی ته شرعا هیڅ اختیار دقضاء متعلق نسته فسخ دنکاح وغیره چی په هغه کی قضاء شرط ده په دی کی ددوی فسخ معتبر نه دی خو چی کمه نکاح بی دشاهدانو یاپه عده کی سوی وی داچی باطل اوناجائز ده ددی وجه ښځه په داسی صورت کی ولی بله نکاح کولی سی یا داخلګ دی په اجازه دولی بله نکاح وکړی. فقط

دانګریزی عدالت فیصله دقضاء دقاضی په حکم کی نه ده: **سوال**: (۱۰۷۴) خاوند ښځه په خلاف کولو ووهله ښځه دمور اوپلار کره ولاړه مور اوپلار یي مقدمه وکړه او ددروغو شاهدان یي پیش کړه اودسرکار څخه یي دطلاق حکم واخیستی خوخاوند طلاق نه دی ورکړی نودا ښځه خپله نکاح بل ځای کولی سی اوکه نه؟

جواب: مذکوره ښځه شرعا دبلی نکاح کولو اختیار نه لري اودسرکار دیوملازم حکم ته قضاء دقاضی نسی ویل کیدی ځکه چی که سرکاری جج کافردی نودی خوپه دار الاسلام

---

(۱) و(۳) یصیرالقاضی قاضیا بتراضی المسلمین (ردالمحتارکتاب القضاء ج۴ ص۴۲۷، ط.س. ج۵ ص۳۶۹). ظ

(۲) واهله اهل الشهاده ای ادائها علی المسلمین (درمختار) الضمیر فی اهله راجع الی القضاء بمعنٰی من یصح منه الخ حاصله ان شروط الشهاده من الاسلام والعقل والبلوغ الخ شروط بصحة تولیة وللصحة حکم بعدها ومقتضاه ان تقلید الکافر لایصح (ردالمحتار کتاب القضاء ج۴ ص۴۱۴، ط.س. ج۵ ص۳۵۴). ظفیر

کې هم قاضي نه سي کيدی اوکه دبعضې اقوالو مطابق سي نوبياهم دده حکم پر اهل اسلام نه نافذ کيږي. کما في الشامي ومقتضاه ان تقليد الکافر لايصح وان اسلم (۱) وفيه ايضا عن البحر وبه علم ان تقليد الکافر صحيح وان لم يصح قضاءه على المسلم حال کفره (۲). اوکه سرکاري جج مسلمان هم وي نوهم دی شرعي قاضي نه دی. في الدر المختار تحت قوله ولو کافرا الخ اذا کان يمنعه عن القضاء بالحق فيحرم (۳) الخ نوثابته سوه چي مذکوره ښځه که بل ځای نکاح وکړي نودابه دزنا کاري په حکم کې وي. فقط

دفسخ دنکاح په سلسله کې سوال او دعالمانو داختلاف څه حل دی؟ سوال: (۱۰۷۵) مولينا عبد الحی صاحب په مجموعة الفتاوی کې ليکلي دي چې دنابالغي نکاح دپلار او دنيکه څخه علاوه که بل چا وکړه نوپه دې وطن کې هيڅ صورت دفسخ نسته خوکه ددار الاسلام دقاضيانو څخه لکه دبهوپال اودحجاز څخه طلب دفسخ دنکاح وکړي نوفسخ به وسي اودارکم مولانا اشرف علي صاحب ليکلي دي چې يومسلمان حاکم ته دی فيصله يوسي په ذريعه ديو مولوي، نودې حاکم دا فسخ کولی سي که څه هم دانګريزانو دطرفه وي ددې دواړو صاحبانو ليکل صحيح دي اوکه څنګه مسئله ده؟

دنابالغ وکيل جوړول: **سوال**: (۱۰۷۵) (۲) نابالغه زيد عمر وويل چې ته زموږ اکا بکر ته دخطبې دپاره ولاړسه چې دی خپله لور ماته په نکاح کړي نوزيد نابالغه اوعمر دواړه دزيد اکاته دپاره ددوستي ولاړل عمر بکرته وويل چې زيد ستا وراره دی ته خامخاخپله فلانۍ لور ده ته په نکاح کړه بکر وويل موږ ورکړه، زيد نابالغه وويل چې موږ قبوله کړه زيد چې کم الفاظ عمر ته وويل نوپه دې الفاظو سره عمر به دده وکيل وي اوکه نه؟ نابالغ که يو سړي وکيل بالنکاح کړي داصحيح دی اوکه نه؟ اودزيد نابالغه قبول صحيح دی اوکه نه؟

جواب: ۱\. په دې باره کې چې څه مولانا عبد الحی مرحوم صاحب اومولانا اشرف علي تهانوي سلمه ليکلي دي دواړه صحيح دي که حاکم لکه جج وغيره مسلمان وي که څه هم دکافرانو څخه مقرروي ددوی تفريق هم معتبردی اوکه بلادو داسلام ته ولاړسي اوهلته تفريق اوفيصله وسي هم صحيح ده په کتابونو دفقه کې داتصريح سته چې کم قاضيان دکافرانو دطرفه مقرر وي نوهغوی هم فيصله کولی سي (۴). فقط

---

(۱) ردالمحتار کتاب القضاء ج۴ ص۴۱۴ ، ط.س. ج۵ ص ۳۵۴. ظفير

(۲) ايضا ج۴ ص۴۱۴ ، ط.س. ج۵ ص ۳۵۴. ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش رد المحتار کتاب القضاء ج۴ ص۴۲۷. ط. س. ج۵ ص۳۶۸. ظفير

(۴) ويجوز تقلد القضاء من السلطان العادل والجائر ولوکافراً (الدرالمختار على هامش رد المحتار کتاب =

۲\ . دنابالغ وکیل جوړول صحیح نه دی نوپه دی صورت کی چی اکا ولی اقرب دی نودی په خپل ولایت سره دصغیر نکاح کولی سی اوقبول دنابالغی بالاستقلال صحیح نه دی خو که ولی داقبول جائز وساتی نودا قبول معتبر دی چی نابالغ ممیز وی (۱). فقط

دورور تړل سوی نکاح دبلوغ څخه وروسته فسخ کولو دپاره دحج سره دعوٰی صحیح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۷۶\) دهندی صغیرې نکاح ددې ورور بکروکړه په وخت دبلوغ هنده نکاح فسخ کول غواړی چی دهغه دپاره قضاء دقاضی شرط ده اوحال دادی چی قاضی زموږ په وطن کی دانګریزانو ترحکومت لاندی وی نودی قاضی دی اوکه نه؟ اوعلمآء هم دقاضی په حکم کی دی اوکه نه؟ اوفریقین هم حکم نه جوړوی نوآیا هنده چي په جج صاحب سره فسخ دنکاح وکړی نکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟

جواب: په داسی صورت کی شرعًا دفقهاؤ دتصریح مطابق به نکاح فسخ نه وی: لان من شرائطه القضاء ولایکون الکافر قاضیا. خوکه مسلمان حاکم داسی فیصله وکړی نو معتبره به (۲) وی. فقط

دنکاح دفسخ کولو حق لاندی لیکلو خلکو ته حاصل دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۷۷) (۱) دنابالغی انجلۍ نکاح ددی اکا دیو هلك سره وکړه انجلۍ همیشه ددی نکاح څخه انکار کړیدی چی کم وخت دابالغه سوه اودې ته حیض راغی دغه وخت هم دی نکاح جائز ونه ساتله څلور شاهدان یي پردی قائم کړل چی زما نکاح زما اکا چی دفلانی سره تړلی وه هغه ماته منظوره نه ده په دی صورت کی دانکاح فسخ خوبه وی خودفسخ کولو اختیار انجلۍ ته نسته قاضی په دی کی شرط دی په دی زمانه کی مسلمان حاکم نسته اونه دحاکم دطرفه یو څوك داسی مقرر دی چی په دی صورت کی فسخ وکړی نواوس په دی امر کی باید څه وسی؟

(۲) دکلی پټواری دقاضی کارکولی سی اوکه نه؟ دکلی معتبر عالم په دی امرکی قائم مقام دقاضی کیدی سی اوکه نه؟ په اسلامی ریاست مثلاًگجرات کی دلته حاکم مسلمان دی دانګریزی سرکار ماتحت دی دهغه دطرفه چی کم مسلمان قاضی دی هغه په دی امر کی فیصله کولی سی اوکه نه؟ یا دبهوپال، حیدراباد، رامپور او ټونك کی ددغه ځای قاضی والاریاست ته ولاړسی اوهلك یادهلك ولی هلته حاضرنه وی ځکه چی جلا ریاست دی بالجبر هلته یي حاضرولی نه سی نوصرف انجلۍ خپله نکاح فسخ کولای سي اوکه

= القضاء ج۴ ص۴۱۴ ، ط.س. ج۵ ص۳۲۸). ظفیر

(۱) و(۲) وبه علم ان تقلید الکافر صحیح وان لم یصح قضاءه علی المسلم حال کفره الخ (ردالمحتار کتاب القضاء ج۴ ص۴۱۴ ، ط.س. ج۵ ص۳۵۴). ظفیر

نه؟ غرض داچي په دې صورت کي يوداسي صورت وليکی چي په آسانه فسخ وسی هلك لاکوچنی دی اوانجلۍ بالغه ده نوددی وجه څخه مفصل مفصل ليکل وکړی، اجرکم علی الله!

جواب: دکلی مسلمان پټواری يامعتبر عالم فسخ نه سی کولی مګرهلته چی دی حکم وی دفريقينو دطرفه درياست اسلامی قاضی او حاکم فسخ کولی سی خو حاضريدل دبالغ خاوند يا دنابالغ ولی وصی ضروری دی: وفيه ايماء الی ان الزوج لوکان غائبا لم يفرق بينهما مالم يحضر للزوم القضاء علی الغائب (۱) شامی ولوبلغت وهو صغير فرق بحضرة ابيه او وصيه بشرط القضاء درمختار (۲). فقط والله اعلم

دپلار تړل سوی نکاح دبلوغ څخه وروسته انجلۍ نه سی فسخ کولی: **سوال**: (۱۰۷۸) يو حنفی سړی خپله نابالغه لور يوسړی ته په نکاح کړه نابالغه هفته دوی هفتی وروسته دخاوند دکور څخه بيرته راغله اوچی بالغه سوه پلار ته يي وويل ماته دانکاح منظوره نه ده په دی صورت کی نکاح فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: دحنفی فقه په کتابونوکی تصريح ده چی پلارخپله کمه نابالغه لورپه نکاح ورکړی دا انجلۍ دبلوغ څخه وروسته دانکاح نه سی فسخ کولی (۳)، نوددی وجه څخه بی له طلاقه دخاونده هيڅ صورت په موجوده حالت کی نسته. کذافی الدرالمختار. فقط

پلار چی دنابالغه انجلۍ کمه نکاح وکړه هغه صحيح ده فسخ کيدی نه سی: **سوال**: (۱۰۷۹) ددوو نابالغو ماشومانو نکاح ددوی دمور اوپلار په اجازه وسوه اوس دهلك مور اوپلار مړه دی اودی ناجوړه دی، ددی وجه څخه دانجلۍ وارثان ددی بل ځای نکاح کول غواړی چی کله دوی ته په دی مسئله زور ورکول سو نودوی وويل چی نکاح نه ده سوی، نو دوهمه نکاح کيدی سی اوکه نه، اودوهمه نکاح تړونکی دکم جرم مرتکب سو؟

جواب: دنابالغانو نکاح چی ددوی پلار نيکه وکړی نوصحيح ده (۴) اودنابالغ انجلۍ نکاح چی پلار يانيکه وکړی نونابالغه يي وروسته دبلوغ څخه نه سی فسخ کولی، که وی کړه نودابه باطله (۵) وی اوقصداً عمداً سخته ګناه ده توبه دی وکاږی. فقط

(۱) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۱. ط.س. ج۳ ص۷۰. ظفير
(۲) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۱ ، ط.س. ج۳ ص ۶۹. ظفير
(۳) لوفعل الاب اوالجد عند عدم الاب لايکون للصغير والصغيرة حق الفسخ بعد البلوغ وان فعل غيرهما فلهما ان يفسخا بعد البلوغ (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۰ ، ط. س. ج۳ ص ۶۸). ظفير
(۴) وللولی النکاح الصغير والصغيرة جبرا ولو ثيبا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۷ ، ط. س. ج۳ ص۶۵). ظفير
(۵) لوفعل الاب اوالجد عندعدم الاب لايکون للصغير والصغيرة حق الفسخ بعد البلوغ (ردالمحتار باب الولی =

حكم ته دفسخ اختيار سته چي كله خاوند موجود وي: سوال: (۱۰۸۰) دهندى نابالغى نكاح ددى ورور بكر دزيد سره وكړه كله چي هندى ته اول حيض راغى نوهندې دشاهدانو په مخكى نكاح فسخ كړه اودخالد سره يي دوهمه نكاح وكړه ايا فسخ دنكاح دهندې سره ددى چي زمونږ په ملك كى قاضى نسته كيدى سي اوحكم هم نكاح فسخ كولى سى اوكه نه؟ اودهندى مخكنى خاوند حاكم ته نه مخامخ كيږى اونه هنده اول خاوند قبلوى اوپه دى وخت كى ملايان دقاضى قائم مقام كيدى سى اوكه نه؟ اوچى كله اول خاوند نه حاضريږى نوپه دى صورت كى حكم دفسخ دنكاح كولى سى اوكه نه؟

جواب: قال فى الدرالمختار ولكن لهما اى لصغير وصغيرة الخ خيار الفسخ بالبلوغ الخ بشرط القضاء للفسخ (قوله بشرط القضاء) لانه فى اصله ضعفا فيتوقف عليه كالرجوع فى الهبة ايماء الى ان الزوج لوكان غائبا لم يفرق بينهما مالم يحضر للزوم القضاء على الغائب نهر شامى ([1]) ص۳۰۷ ج۲. فقط

نوددى عبارت څخه دتماموخبرو جواب حاصل سو چي دفسخ دنكاح دپاره قضاء دقاضى شرط ده اوپه صورت دنه موجوديدو دقاضى، دفريقينو منل سوى حكم هم دخاوند په وجودكى فسخ كولى سى اوموجود ملايان قائم مقام دقاضى نه دى اونه بغير دمنلو دفريقينو څخه حكم مقرر كيدى سى اونه دده حكم نافذ كيدى سى اودخاوند دغائبيدو په صورت كى هم حكم فسخ نه سى كولى، حاصل داچى په صورت مسئوله كى مخكى نكاح فسخ نه ده اودوهمه نكاح باطله ده. فقط

دښځى دنكاح دفسخ كولو دپاره مرتد كيدل بى فائدې دي: سوال: (۱۰۸۱) زينب نوى مسلمانه ښځه په خپل زړه دزيد په نكاح كى سوه شپږ اوه كاله وروسته زيد په يو غرض بلي خواته ولاړى چى كله بيرته راغى نوخپله منكوحه يي په خپل مكان كى پيدانه كړه معلومه سوه چى دادقريبانو په كوركى ده دده په رابللو هم رانغله زيد عدالت ته معامله يووړه، په جوابي دعوىٰ كى زينب دابيان وكى چى زه دخپلو عزيزانوكره ولاړم اوماخنزير وخوړى اودبت عبادت مى وكى دا آيا په دى بيان سره مرتده سوه اونكاح فسخه سوه او كه نه؟

جواب: په دى حالت كى فتوىٰ په دى ده چى دښځى دارتداد دمنلو څخه وروسته داښځه به په زورسره اول خاوند ته واپس كيږى اوتجديد داسلام اوتجديد دنكاح دى وسى او دبلخ دمشائخو فتوىٰ پردى ده چى ښځه كه حيله وكړى اومرتده سى نوداول خاوند

= ج۲ ص۴۲۷، ط. س. ج۳ ص۶۸). ظفير

([1]) ردالمحتار باب الولى ج۲ ص۴۲۰ – ۴۲۱ ، ط.س. ج۳ ص۷۰. ظفير

دنکاح ښځه نه خارجيږی په زور دی مسلمانه سی اواول خاوند نکاح قائمه ده په در مختار کی دی: وتجبر علی الاسلام وعلی تجدید النکاح زجرا لها بمهر یسیر کدینار وعلیه الفتویٰ ولوالجیة وافتی مشائخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجرًا وتیسیرًا (۱).
ترجمه: اوښځه دی مجبوره سی په اسلام اوپه تجدید دنکاح په لږځه مهر سره، دپاره دزورنی لکه یودینارسو مثلا، اوهم پردی باندی مشائخو دبلخ فتویٰ ورکړیده چی په داسی حالت کی دښځی دمرتد کیدو سره داول خاوند نکاح نه فسخ کيږی زجرا، او دسختی ښځه دبچ کیدو په خاطر. فقط

دبلوغ ښځه مخکی په مباشرت کیدو سره هم خیار بلوغ حاصل دی: **سوال**: (۱۰۸۲) دهندی نکاح دزید سره وروسته دهندی دپلار دمرګ ښځه ددی مور په نابالغی کی کړی وه، او مجامعت ورسره هم په داسی حالت کی سوی وو چی پردی لا آثار دبلوغ نه وه ښکاره سوی، که زید په جبر یاپه رضا دهندی مباشرت کړی وی نوهنده دبلوغ ښځه وروسته دا نکاح فسخ کولی سی اومذکوره مباشرت دخیار بلوغ دپاره مانع دی اوکه نه؟

جواب: مخکی دبلوغ ښځه په دخول اومباشرت سره خیار بلوغ نه ختميږی، دبلوغ ښځه وروسته هندی ته اختیار سته چی په بلوغ سره سمدستی خپله ناراضګی ښکاره کړه او دنکاح دفسخ کولو طلب وکړی مګر ددی فسخ دپاره قضاء دقاضی شرط ده په درمختار کی دی: وخیار الصغیر والثیب اذا بلغا لایبطل بالسکوت بلاصریح رضا ردالمحتار (۲).
په مشهوره شامی کی دی: قوله والثیب شمل ما لو کانت ثیبا فی الاصل اوکانت بکرًا ثم دخل بهاثم بلغت (قوله دفع مهر) حمله فی الفتح علی ما اذا کان قبل الدخول اما لو دخل بها قبل بلوغه ینبغی ان لا یکون دفع مهر بعد بلوغه (۳) رضا وفیه ایجاب قبیله وحاصله انه اذا کان المزوج للصغیر والصغیرة غیر الاب والجد فلهما الخیار بالبلوغ او العلم به فان اختار الفسخ لا یثبت الفسخ الا بشرط القضاء . (۴) فقط

په دهوکه سره غیر کفو والا واده وکړی نو وروسته دافسخ کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۸۳) په هندوستان کی ډیر داسی شرفاء سته چی په هغوی کی دکفو اعتبار وی که یوسړی دهوکه وکړي اوخپل ځان کفوښکاره کړی اودانجلۍ سره واده وکړی اوپه حقیقت کی دی ددی کفو نه وو، نوپه دې سره نکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۴۰ ، ط. س. ج۳ ص۱۹۴. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷ ، ط. س. ج۳ ص ۷۵. ظفیر
(۳) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۷ ، ط.س. ج۳ ص ۷۵. ظفیر
(۴) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۱. ط. س. ج۳ ص۷۰. ظفیر

جواب: په داسی صورت کی اختیار دفسخ سته په درمختارکی دی: لو تزوجته علی انه حر او سنی الخ فبان بخلافه اوعلی انه فلان بن فلان فاذا هو لقیط اوابن زنا کان لها الخیار [۱] الخ وفی الشامی لو انتسب الزوج لها غیر نسبه فان ظهر دونه وهو لیس بکفو فحق الفسخ ثابت للکل الخ [۲]. فقط

داکا تړل سوی نکاح دبلوغ څخه سمدستي وروسته دفسخ اختیار سته خو قضاء دقاضی شرط ده: **سوال**: (۱۰۸۴) دنابالغی هندی نکاح ددی اکا دزید سره وکړه هنده چی کله بالغه سوه نودی سمدستی دځو سړیو په مخکی په خپله نکاح ناراضګی ښکاره کړه چی ماته دا نکاح منظوره نه ده نوآیا دهندی نکاح په نامنظورولو سره فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: په درمختار اوپه شامی کی دی چی په صورت مذکوره کی هندی ته دبالغیدو سره سمدستی اختیار سته چی خپله نکاح فسخ کړی خوبغیر دحکم شرعی څخه دانکاح به فسخ نه وی، لکه چی په درمختار کی دی: بشرط القضاء. [۳] اوپه شامی کی دی: فان اختار الفسخ فلایثبت الفسخ الابشرط القضاء الخ [۴] نوپه دی زمانه کی چی شرعی قاضی نسته نوددی وجه څخه مذکوره نکاح به فسخ نه وی ځکه چی هنده خپله نکاح پخپله فسخ کولی نه سی اودوهمه نکاح دخاوند دطلاق څخه بغیر نه سی کولی. فقط

یو پردی سړی نکاح وکړه اوس دبالغ کیدو څخه وروسته دافسخ کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۸۵) دهندی مور اوپلار، نیکه او ورور مړه دی دهندی دنیکه اخښی چی یو پردی سړی دی داتو کالو په عمرکی دهندی نکاح دزید سره وکړه هنده دبالغیدو سره دانکاح دځوشاهدانوپه مخکی فسخ کړه نودانکاح فسخ سوه اوهنده بله نکاح کوی سی اوکه نه؟

جواب: مذکوره نکاح فسخ سوه هندی ته اختیار سته چی دبل چاسره نکاح وکړی [۵] (دا په اصل کی دفضولی نکاح ده چی دانجلۍ تربالغیدو وروسته ددی په اجازه موقوفه وه نو چی دی منظوره نکړه نوختمه سوه دلته قاضی ته ضرورت نسته. ظفیر)

دنابالغه هلک سره دنابالغی انجلۍ واده وسو نو انجلۍ نکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۸۶) دیوهلك نابالغ سره دیوې بالغی انجلۍ نکاح وسوه اوس داانجلۍ دانکاح فسخ

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب العنین وغیر ج۲ ص۸۲۲ ، ط.س. ج۳ ص۵۰۱. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۰ ، ط. س. ج۳ ص ۷۱. ظفیر

(۴) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۱. ط. س. ج۳ ص ۷۰. ظفیر

(۵) ونکاح عبد وامة بغیر اذن السید موقوف علی اجازته کنکاح الفضولی توقف عقوده کلها ان لها مجیز حالة العقد والا تبطل (درمختار) قال فی البحر الفضولی من یتصرف لغیره بغیر ولایة ولا وکالة (ردالمحتار باب الکفارة ج۲ ص۴۴۹ ، ط. س. ج۳ ص ۹۷). ظفیر

کول غواړی کیدی سی او که نه؟

جواب: چی انجلۍ بالغه وه اوددی په اجازه نکاح سوی وه نودا نکاح شرعًا صحیح ده اوس که دا انجلۍ جدايي غواړی نوچی کله هلك بالغ سی دده څخه دی طلاق واخلی یا دی خلع وکړی یعنی انجلۍ دي مهر معاف کړی اوخاوند دی طلاق ورکړی بغیر دخاوند دطلاقه یادخلع څخه هیڅ صورت دجدايي اودجواز ددوهمی نکاح دانجلۍ دپاره نسته (۱) ترڅو چی هلك بالغ سوی نه وی اوطلاق یي نه وی ورکړی، هیڅ صورت دفسخ دنکاح او دجواز دنکاح ثانی دانجلۍ دپاره نسته . فقط

پلار چی کله لیونی وو نو اکا ولی وو دده تړل سوی نکاح صحیح ده پلار ته یي درد کولو او انجلۍ ته دفسخ بی له قضاء دقاضی څخه اختیار نسته: **سوال**: (۱۰۸۷) زید لیونی سو او دده دکوچنی لور هنده نکاح دزید ورور یعنی دهندی اکا بکر وکړه اوس دانجلۍ پلار روغ سو اودخپلی لور دنکاح څخه انکار کوی اودځلورو پنځو میاشتو راهیسی هنده هم بالغه ده دبالغیدو سره دي دنکاح څخه انکار وکی، نودا نکاح صحیح ده او که نه اواوس هنده یا زید دافسخ کولی سی اودهندی بله نکاح جائزده او که نه؟

جواب: دانکاح چی دهندی نابالغی اکا په حالت مذکوره کی کړیده صحیح ده، اوهندی ته دبالغیدو سره که څه هم دفسخ دنکاح اختیار سته خوقضاء دقاضی ددی فسخ دپاره ضروری ده اوپه دی زمانه کی قاضی نسته نوددی وجه څخه بی دقضاء دقاضی دا نکاح نه سی فسخ کیدی (۲) اوهنده دوهمه نکاح نه سی کولی اوزید ته دفسخ کولو اختیار نسته. کذا فی کتب الفقه (۳). فقط

دنکاح قبلولو اودخاوند سره داوسیدو څخه وروسته نکاح به فسخ نه وي: **سوال**: (۱۰۸۸) دیوي یتیمی نابالغی انجلۍ نکاح ددې میریزي پلاردیوسړی سره وکړه انجلۍ دبالغیدو څخه وروسته تردوو کالو پوری دخاوند سره اوسیدله او ددوو کالو څخه وروسته دنکاح څخه انکاري سوه نوپه دی صورت کی اوس انجلۍ نکاح فسخ کولی سی او که نه؟

---

(۱) په دی کی دخیار بلوغ سوال نه پیدا کیږی ځکه چی دبلوغ څخه وروسته دانجلۍ په اجازه نکاح سویده نو بالغ ته خیار دفسخ حاصل نه دی داحق دنابالغی دی: لهما ای لصغیر وصغیرة وملحق بهما خیار الفسخ ولوبعد الدخول بالبلوغ اوالعلم بالنکاح بعده (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۰، ط. س. ج۳ ص ۶۹). ظفیر

(۲) فان اختار الفسخ لایثبت الفسخ الابشرط القضاء (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۱. ط.س. ج۳ ص۷۰). ظ

(۳) وللولی الابعد التزویج بغیبة الاقرب فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (درمختار) حال قیام الاقرب ای حضوره وهو من الولایة اما لوکان صغیرا اومجنونا جاز نکاح الابعده (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲ ، ط. س. ج۳ ص۸۱). ظفیر

جواب: په دی صورت کی ښکاره هم داده چی دانکاح نافذه ده اواوس داجازی دبالغی ثځه وروسته به دا نکاح فسخ نه وی (۱). فقط

داکا نکاح یي وروسته دبلوغ ثځه فسخ کړه اوبله نکاح یي وکړه نوځه حکم دی؟ سوال: (۱۰۸۹) چی کله دنابالغی عائشی پلار مړسو نوددی اکا ددی نکاح وکړه ځو کاله وروسته چی کله عائشی ته حیض راغی نودی سمدستی دغه وخت دخپلی نکاح ځځه انکار وکی او ددوو معتبرو شاهدانو په مخکی یي خپله نکاح فسخ کړه، بیا ځو کاله وروسته عائشه خپله نکاح په کفوکی وکړه اوس یوسړی دامسئله را ایستلی ده چی دعائشی مخکی نکاح په هیڅ صورت سره نه سی فسخ کیدی او وروسته چی کمه نکاح سویده نوهغه فاسده ده، اوچی کم اولاد سویدی هغه ولد الزنا دی، آیا دعائشی اوله نکاح فسخ ده اودوهمه نکاح صحیح ده اوکه نه؟ اوچی کم مولوی دامسئله را ایستلی ده چی اوله نکاح فسخ نه ده صحیح ده اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار وان کان المزوج غیرهما أي غیر الأب وأبیه (الی ان قال) إن کان من کفو وبمهر المثل صح ولکن لهما خیار الفسخ بالبلوغ بشرط القضاء للفسخ، قال فی ردالمحتار المعروف بالشامی قوله: للفسخ ای هذا الشرط إنما هو لفسخ لا لثبوت الاختیار ، وحاصله أنه إذا کان المزوج للصغیر والصغیرة غیر الأب والجد فلهما الخیار بالبلوغ أو العلم به فإن اختار الفسخ لا یثبت الفسخ إلا بشرط القضاء فلذا فرع علیه بقوله فیتوارثان فیه أي في هذا النکاح قبل ثبوت فسخه الخ شامی (۲) ج۲ ص۳۰۷.

نوددی عبارت ځځه دامعلومه سوه چی په مسئوله صورت کی په وجه دنه کیدو دقضاء دقاضی اوله نکاح فسخ نه سوه او دوهمه نکاح چی کمه قبل از فسخ نکاح اول وسوه نو هغه باطله ده، نوکم عالم چی دامسئله بیان کړیده چی دوهمه نکاح صحیح نه ده دافتویٰ صحیح ده دحنفی دمعتبرو کتابونو موافق چی کله دوهمه نکاح باطله سوه نوچی کم تعریفات په باطله نکاح کي دی هغه ښکاره دی اوواضحه دی وی چی دیوعالم یادزیاتو عالمانو داویل چی نکاح فسخ سوه قضاء نه ده اونه قائم مقام دقضاء دقاضی ده خوکه دواړه فریقی یعنی ښځه اوخاوند یوسړی حکم جوړکی چی دی ځه فیصله وکړی نوموړ نه به منظوره وی نودده حکم قائم مقام دقضاء دقاضی دی. واذ لیس فلیس. فقط

دمورکړی نکاح یي په بالغیدو سره فسخ کړه نوځه حکم دی؟سوال:(۱۰۹۰) دنابالغی هندی

---

(۱) وخیار الصغیر والثیب اذا بلغا لایبطل بالسکوت بلاصریح رضاء اودلالة علیه کقبلة ولمس ودفع مهر (در مختار) ومن الرضا دلالة فی جانبها تمکینه فی الوطؤ (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷، ط.س. ج۳ ص۷۵). ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الولی ص۴۱۹ – ۴۲۱، ط. س. ج۲، ط. س. ج۳ ص ۶۷ – ۷۰. ظفیر

نکاح ددی مور په خپل خاندان کی په مهر مثل سره وکړه ځکه چی دانجلۍ پلار او نیکه (دپلار پلار) مړه سویدی انجلۍ په حیض راتلو سمدستی وویل چی زه دانکاح نه ساتم نوآیا دانکاح فسخ سوه اوبله نکاح کولی سی؟

جواب: په داسی صورت کی دنکاح دفسخ کولو دپاره قضاء دقاضی شرط ده اوقاضی په دی زمانه کی نسته نوبی دخاوند بالغ دطلاقه هیڅ صورت دنکاح دفسخ اودجواز دنکاح ثانی نسته (داسی دې ته خیار بلوغ حاصل دی ([1]). ظفیر)

مور نکاح وکړه هلک نابالغ اوانجلۍ بالغه ده نو دجدایي څه صورت دی؟ سوال: (۱۰۹۱)

یوه انجلۍ چی دهغه پلار مړسویدی دغه وخت دانجلۍ عمر شپږ یا اووه کاله وو ددی مور ددی نکاح دیو هلك سره وکړه چی دهغه عمر دوه درې کاله وو اوس انجلۍ داتلسو کالو اوهلك ددیارلسو کالو دی خوپه دواړو کی دومره نفرت دی چی یوبل ته کتی نسی نو دانجلۍ دجلا کیدو یو صورت وښیاست!

جواب: که مور په دغه وخت کی ولیه وه اوبل څوك عصبه دغه وخت دنابالغی موجود نه وو نومور چی دنابالغی کمه نکاح وکړه هغه صحیح ده اوس دجدایي صورت صرف دادی چی هلك بالغ دپنځلسو کالو سی نودی دې ته طلاق ورکړی. فقط

نیکه (دپلار پلار) نکاح کړی دلمسی او انجلۍ دخاوند سره اوسیدلی هم دی اوس نکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۰۹۲) دزید زوی مړسو دده یوه لور اویوه ښځه پاته سوه زید دخپلی لمسی نکاح دخپل لمسی (دلور دزوی) سره وکړه، بی دانجلۍ دمور درضا څخه څو ورځی خوانجلۍ دخپل خاوند سره اوسیدله خو دکونډی خاوند دا انجلۍ ولمسوله چی ته ووایه مانکاح نه ده کړی اوزه راضی نه یم نوانجلۍ برابر انکارکوی چی زه اوس بالغه یم زمانکاح نه ده تړل سوی اونیکه چی په نابالغتیا کی کمه نکاح کړیده زه په هغې راضی نه یم شرعا دزید تړل سوی نکاح ماته سوه اوکه باقی ده دانجلۍ بل ځای نکاح کیدی سی دیو مولوی په فتوٰی دزید لمسی دوهمه نکاح کړیده؟

جواب: نیکه چی کمه نکاح دخپلی نابالغی لمسی کړیده هغه نه سی فسخ کیدی دوهمه نکاح چی کمه انجلۍ کړیده هغه شرعا باطله ده ددی وجه څخه انجلۍ مخکنی خاوند ته ورکول پکار ده ہکذا فی کتب الفقہ الحنفیۃ کالدر المختار والشامی والعالمگیری والہدایہ وغیرہ. ([2]) فقط

([1]) حاصله انه اذا کان المزوج للصغیر والصغیرة غیر الاب والجد فلهما الخیار بالبلوغ اوالعلم به فان اختار الفسخ لایثبت الابشرط القضاء (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۱، ط. س. ج۳ ص۷۰) اوس په صوبه بهار کی دامارت شرعی دقاضیانو په ذریعه په ډیری اسانتیا سره داصورت راوستلی سی. ظفیر

([2]) ولو فعل الاب اوالجد عند عدم الاب لا یکون الصغیر والصغیرة حق الفسخ بعد البلوغ (رد المحتار باب =

خیار بلوغ اوفسخ دنکاح: **سوال**: (۱۰۹۳) دمراهقی یا دبالغی نکاح ددی ولیانو دزید سره وکړه چی کله دادزید کره راوستل سوه نوداسی معلومیده لکه چی داپه زید رضانه وی اودی ښه ښکاره هم ویل چی زه په زید رضانه یم اونه زه دده سره اوسیدل خوښوم وروسته ددی څخه دزید ولیانو دهندی ولیان را وغوښتل اوهنده یي دوی ته وسپارله څو میاشتی وروسته دهندی ولیان راغلل اودایي وویل چی هنده وایی چی اوس زه دزید سره خوشحاله یم اوهلته ځم خواوس دزید ولی انکار کوی اوغواړی چی ښځه مهر معاف کړی اوزید طلاق ورکړی دی په دې صورت کی څه حکم دی؟ دانکاح صحیح ده اوکه نه؟ که صحیح ده نوددی ورځو نفقه دکله څخه چي دې دزید کره راتلل منلی دی واجب ده او که نه؟

جواب: که هنده بالغه وه اوموافق درواج ددی څخه داجازی اخیستو څخه وروسته ددی ولیانو ددی نکاح کړی وه نونکاح صحیح ده اوهندی ته په دی صورت کی دفسخ دنکاح اختیار نسته اوکه هنده نابالغه وه اووددی نکاح دپلار یانیکه څخه علاوه بل ولی کړی وی نوپه دی صورت کی هندې ته سمدستی په بلوغ دفسخ اختیار سته خوچی شرائط دفسخ نه دی موجود سوی نودا نکاح صحیح پاته ده، اوس چی په ښځی اوخاوند کی موافقت وی یعنی هنده دزید سره په اوسیدو راضی وی اوزید هم راضی وی اوحقوق دزوجیت ادا کولو ته تیاروی نودزید ولیانو لره جدایي نه ده په کار ځکه چی داکار عند الشرع مذموم دی اودهندی نفقه په دی صورت کی دزید پر ذمه واجب ده: فتجب للزوجة بنکاح صحیح علی زوجها الخ ولو هی فی بیت ابیها اذا لم یطالبها الزوج بالنفقة به یفتی وکذا اذا طالبها ولم تمنع اوامتنعت للمهر ([1]) درمختار، قوله ولو هی فی بیت ابیها تعمیم لقوله فتجب للزوجة وهذا ظاهر الروایة فتحب النفقة من حین العقد الصحیح وان لم تنتقل الی منزل الزوج اذا لم یطالبها الخ شامی ([2]) ج۲ ص۶۲۴. فقط

پرخیار بلوغ ښځه شاهد جوړکړی نوتاخیر بیا مضرنه دی: **سوال**: (۱۰۹۴) صغیره چی په نکاح دپلار نیکه څخه علاوه بل ولی ورکړیده په خپل خیار بلوغ یي شاهدی قائمه کړه او دشاهدی څخه وروسته ساکته پاته کیدل دقاضی تر موجودیدو پوری یاتر فتویٰ راغوښتلو مخکی دخلوت صحیحه څخه مانع دفسخ دی اوکه نه؟ اودفسخ دپاره قضاء دقاضی شرط ده اوکه نه؟

= الولی ص۴۲۰، ط. س. ج۲، ص۲۸). ظفیر

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۲. ط. س. ج۳ ص۵۷۲. ظفیر

([2]) ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۹ ، ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفیر

دخیار بلوغ دپاره قضاء دقاضی: ۲\ . که ناکح غائب وی نوقاضی به څنګه نکاح فسخ کوی که په دی کی قضاء دقاضی شرط وی؟

خیار بلوغ: ۳\ . دخیار بلوغ څخه وروسته چی ښځی ته کله دنکاح علم وسی اودا دمهر په مقدار کی بحث وکړی نوبیا هم ښځی ته خیار دفسخ سته اوکه نه؟

جواب: ۱\ . قضاء دقاضی دفسخ دپاره شرط ده که سمدستی دبلوغ سره منکوحه مذکوره په فسخ دنکاح شاهدی قائمه کړل نوبیا دحضور دقاضی پوری خاموش پاته کیدل خیار فسخ نه باطلوی.

۲\ . ددی فسخی دپاره قضاء دقاضی شرط ده. کمافی الدرالمختار بشرط القضاء الخ. اوکه خاوند غائب وی نودده ترحاضریدو پوری به قاضی دفسخ حکم نه کوی. قال فی الشامی وفیه ایماء الی ان الزوج لوکان غائبا لم یفرق بینهما ما لم یحضر للزوج القضاء علی الغائب (۱) مهر الخ.

۳\ . په اصل نکاح دعلم څخه وروسته سکوت دمنکوحی صغیره وروسته دبلوغ څخه مبطل دخیاردی نومنازعت کول په مهر کی اونکاح سمدستی دبلوغ سره نه فسخ کول مسقط دخیار دی، کمامر عن الدرالمختار: وبطل خیار البکر بالسکوت لومختارة عالمة اصل النکاح (۲). فقط

دبلوغ په وخت په سکوت سره خیار بلوغ باطلیږی: **سوال**: (۱۰۹۵\) صغیره چی دخپل پلار نیکه څخه علاوه بل څوك ییي په نکاح ورکړی وی نودبلوغ څخه وروسته شپږ میاشتی خاموشه وه اوس وایي چی ماته دنکاح دفسخ اختیار سته نودا صحیح دی اوکه نه؟ او دیته په دی صورت کی اختیار دفسخ دنکاح سته اوکه نه؟ اوقاضی هم دانکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وبطل خیار البکر بالسکوت الخ ولایمتد الی اٰخر المجلس الخ وفی الشامی قوله وبطل خیار البکر ای سن بلغت وهی بکر الخ (۳). نومعلومه سوه چی دبلوغ څخه وروسته ترشپږو میاشتو پوری دخاموشه پاته کیدو له امله مذکوره منکوحی ته خیار دفسخ نسته اویو قاضی داهم نه سی فسخ کولی. فقط

په فسخ دنکاح کی دښځی او خاوند موجودیدل ضروری دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۹۶\) په خیار بلوغ سره فسخ دنکاح دقاضی دقضاء یا دحکم دحَکَم ضرورت سته او که نه؟ او په

(۱) وګوری ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۱ ، ط. س. ج۳ ص۷۰. ظفیر
(۲) وګوری ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۵ ، ط. س. ج۳ ص۷۳. ظفیر
(۳) ایضا ج۲ ص۴۲۵ ، ط. س. ج۳ ص۷۳. ظفیر

وخت دقاضی دقضاء کی دښځی دخاوند وجود ضروری دی اوکه نه؟

جواب: قضاء دقاضی یا دحکم ته ضرورت اوحاضریدل دښځی اوخاوند یادولی یادوصی په نابالغ کی شرط دی: ولوبلغت وهو صغیر فرق بحضرة ابیه اووصیه بشرط القضاء (۱) الخ الدر المختار.

موریی نکاح کړی وه انجلۍ دافسخ کولی سی اوکه نه؟ اوچی کله داپه مور الزام هم لګوی:

سوال: (۱۰۹۷) یوی کونډی ښځی دخپلی نابالغی لور نکاح دیوهلك سره وکړه بیا وروسته دامذکوره کونډه مړه سوه دنابالغي لور عمر بلوغ ته ورسیدی اوپوره دوه کاله دخاوندپه کورکی اوسیدله اوس داعذر کوی چی زما نکاح چی زما مور په حالت دنابالغی کی کړی وه دادی فسخ سی اودا مذکوره انجلۍ داهم وایي چی زما دخاوند زما دمور سره ناجائز تعلق وو، نوددی وجه څخه دده سره زما نکاح حرامه ده دانجلۍ دا قول معتبردی اوکه نه حرمت به ثابت وی اوکه نه؟

جواب: په اصل کی دنابالغی دنکاح ولایت اواختیار عصباتوته دی مخکی پلار بیا نیکه اوبیا ورور که په دوی کی څوك نه وی نوبیا اکا ولی دی تر آخر دعصباتو نرانو دترتیب پوری چی په دوی کی څوك هم نه وی نودغه وخت مورته اختیار دنابالغی او دنابالغ دنکاح سته نو چی سره ددی چی عصبه ولی موجود وو اوبیا هم مور نکاح کړی وه نودا نکاح دولی پراجازه موقوفه کیږی که ولی داجائز وساتله خوصحیح کې باطله. خوکه څوك عصبه ولی نه وي نوبیا دمور کړی نکاح صحیح (۲) ده، نوپه دی صورت کی که دولی عصبه په وجود کی مور په خپله نکاح کړی وی اوولی داجائز ساتلی وی نوجائزه ده کنې نو باطله ده (۳)، اوکه دولی عصبه دنه کیدو په صورت کی که مور نکاح کړی وی نودا صحیح ده اوس نه سی فسخ کیدی (۴)، اودمذکوره انجلۍ قول چی ددی دخاوند ددی دمور سره ناجائز تعلق ؤ، په دی وجه نکاح ناجائز نه سوه صحیح سوه او معتبر نه سی کیدی اوصرف ددی په ویلو حرمت نه ثابتیږی (۵). فقط

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۰ – ۴۲۱ وفیه ایماء الی ان الزوج لو کان غائبا لم یفرق بینهما ما لم یحضر للزوم القضاء علی الغائب (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۱، ط.س. ج۳ ص۷۰). ظ

(۲) فان لم یکن عصبة فالولایة للام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۴۲۹، ط.س. ج۳ ص۴۸). ظفیر

(۳) فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲، ط. س. ج۳ ص۸۱). ظفیر

(۴) لهما ای لصغیر وصغیرة وملحق بهما خیار الفسخ ولو بعد الدخول بالبلوغ او العلم بالنکاح بعده القصور الشفقة الخ بشرط القضاء للفسخ (ایضا ج۲ ص۴۲۰ – ۴۲۱ ، ط. س. ج۳ ص۲۹). ظفیر

(۵) تزوج بکرا فوجدها ثیبا وقالت ابوك فضنی ان صدقها بانت بلا مهر والا لا (ایضا فصل فی المحرمات ج۲ =

دپلار او نیکه څخه علاوه چا دنابالغی نکاح وکړه نودا دبلوغ څخه وروسته فسخ کولی سی خو قضاء دقاضي ضروري ده: سوال: (۱۰۹۸) دامقدمه تردفعه (۴۹۴) لاندي د: ازدواج ناجائز من جانب مستغیث، په عدالت دراجپور کی دائر سوی وه، مجسټریټ صاحب دراجپور دا استغاثه په دی بناء خارج کړه چی دانجلۍ نکاح کله دعبدالکریم سره سوی وه نودا نابالغه وه او ددی نکاح دولی په ولایت نه وه سوی، ددی وجه څخه انجلۍ ته اختیار سته چی په بالغیدو سره داخپله نکاح فسخ کړی اودبل سړی سره نکاح وکړی دعبد الکریم مستغیث چی کله نکاح سوی وه نوپه دغه وخت ددوهمي نکاح دمریم عمر شپاړس کاله وو اوس ددی عمر تقریبا اتلس کاله دی دمستغیث دوکیل په دی باره کی دابحث دی چی بی شکه داسی نکاح چی دولی په ولایت نه وی سوی ښځه داپه بالغ کیدو فسخ کولی سی خوددی دپاره شرط دی چی موافق دقاعدی دحاکم عدالت یا دقاضی څخه دی اجازه دنکاح حاصله کړی اوترڅو چی په حکم دعدالت نکاح منسوخ نه وی نکاح به قائمه وی ښځه په خپله مرضی نکاح شرعی نه سی ختمولی، وکیل ددفعه (۵۰) قانون شرعی محمدی فیصله کلکته جلد۱۹ ص۹ دا بحث وړاندی کی چی په صورت مذکوره کی دبالغیدو سره ښځی ته دفسخ دنکاح اختیار سته دعدالت څخه دداسی حکم حاصلولو ضرورت نسته اودشریعت محمدی مطابق چی کله دیوبالغ ماشوم واده دپلار اونیکه څخه علاوه بل څوك وکړی نودبالغیدو سره هلك اوانجلۍ ته اختیار سته چی دانکاح باقی ساتی اوکه نه؟ اوپه ثبوت کی حواله دردالمحتار ج۲ ص۵۰۰ مطبوعه مصر اوشرائع الاسلام ص۳۰۹ ورکړه اوددی امر متعلق چی دفسخ دنکاح دپاره حکم دعدالت ضروری دی حواله یې دفتاوٰی عالمگیری ورکړیده اودرج سویدی چی په کتاب ردالمحتار ص۵۰۲ جلد۲ باندی داتشریح سویده چی داسی فعل دانفساخ دپاره چی دهغه دواړی فریقی مجاز وی دیو عدالتی حکم ضرورت نسته خو دجگړی دختمولو دپاره ضرورت سته، واقعات اوحالات دمقدمی دادی، دغور طلبوونکی دا امر دی چی آیا داسی نکاح چی په وخت دنابالغۍ کي دپلار اونیکه څخه علاوه دبل چاپه اجازه وسوه اوسکه اکا ددی نکاح کوونکی وی نوپه متعاقدینو کی دداسی سړی په بالغ کیدو باندی دافسخ کیدی سی اوکه نه؟ او دداسی انفساخ دپاره دعدالت یا دیوشرعی سړی اجازه ضروری ده اوکه نه؟ اوښځی ته اجازه سته چی دعدالت یا دشرعی فتوٰی څخه بی اجازته داول خاوند په وجودکی دوهمه نکاح وکړی نوپه دی مقدمه کی موافق دحکم دجج

= ص۳۰۴ ج۳ ص۳۲). ظفیر

صاحبان مکلف په خدمت یم چی جناب په واقعاتو دمقدمه او دهغه امورو چی عدالت ددی دتنقیح طلب کوی غور وکی اودمذهب داهل السنت والجماعت دمعتبرو شرعی کتابونو حواله ولیکئ؟

جواب: چی په کم صورت کی دنابالغی نکاح ماسوا دپلار اونیکه څخه علاوه بل ولی وکړی نو نابالغی ته وروسته دبالغیدو څخه دا اختیار سته چی دخپلی پخوانی نکاح څخه انکار وکړی اودا دی په ذریعه دقاضی فسخ کړی ځکه چی بغیر دقضاء دقاضی څخه دانکاح نه سی فسخ کیدی لکه چی په ردالمحتار معروف په شامی کی صراحةً دا ذکر دی چی بغیر دقضاء دقاضی دانکاح به فسخ نه وی چی عبارت ددی دادی: فی الدر المختار قوله بشرط القضاء للفسخ الخ قوله: للفسخ ای هذا الشرط هو للفسخ لا لثبوت الاختیار، وحاصله أنه إذا کان المزوج للصغیر والصغیرة غیر الأب والجد فلهما الخیار بالبلوغ أو العلم به فإن اختار الفسخ لا یثبت الفسخ إلا بشرط القضاء الخ ص۳۰۷ ([1]) جلدثانی شامی باب الولی.

نودا عبارت صریح دی په دی باندی چی انجلۍ ته دبلوغ څخه وروسته اختیار دنکاح دفسخ کولو سته خو داپه خپله فسخ نه سی کولی بلکی قاضی شرعی به یي فسخ کوی او بغیر دقضاء دقاضی څخه به دانکاح فسخ نه وی اوانجلۍ لره دا صحیح نه دی چی دا بغیر دفسخ کولو دقاضی اوبی دعدی تیریدو څخه نکاح ثانی وکړی. فقط

چی کله دبلوغ څخه وروسته هم دخاوند سره پاته سوی ده اوس دیته حق دفسخ حاصل نه دی:

سوال: (۱۰۹۹) دزیتون نومي انجلۍ عمر چی کله دڅوارلسو کالو سو نوددی ولی اقرب اکا ددی نکاح دابراهیم سره وکړه اودهمدغه ورځی څخه مذکوره انجلۍ دخاوند سره ځانته اوسیدله دنکاح څخه څلور پنځه میاشتی وروسته دا حائضه سوه اوددی څخه وروسته هم څلور پنځه میاشتی دخاوند سره اوسیدله، ددی څخه وروسته په دوی کی څه ناچاقی راغله اوخاوند دخپلی ښځی څخه جلا اوسیدل شروع کړه اوس مذکوره انجلۍ دعوٰی کوی چی کله زما نکاح وسوه زه نابالغه وم اوس ماته دانکاح منظوره نه ده په دی صورت کی نکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟

جواب: اوس دانکاح نه سی فسخ کیدی په موجوده صورت کی دښځی سره خیار دفسخ دنکاح باقی پاته نه دی: قال فی الدرالمختار ولا یمتد الی اٰخر المجلس (درمختار) ای مجلس بلوغها اوعملها بالنکاح الخ ای فلوسکتت ولو قلیلا بطل خیارها الخ شامی ([2]).

([1]) وګورئ: ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۱ ، ط. س. ج۳ ص۷۰. ظفیر

([2]) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۵ ، ط. س. ج۳ ص۷۴. ظفیر

پلار چې داکا دزوی په ذریعه دخپلی نابالغی لور نکاح وکړه نو آیادي ته خیار بلوغ حاصل دي؟ **سوال:** (۱۱۰۰) زید دخپلی لور دعقد په باره کی په خپله ناجوړی کی خپل داکا زوی ولی وګرزوی اوبکر دخپل زوی دطرفه ولی سو اونکاح یي وکړه نوانجلۍ ته په وخت دبلوغ حق دفسخ سته اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی انجلۍ ته دبلوغ څخه وروسته اختیار دفسخ دنکاح سته خو دفسخ دنکاح دپاره داضروري ده چی کم وخت انجلۍ بالغه سی دغه وخت دا ووایي چی زه نکاح فسخ کول غواړم اوقاضی شرعی نکاح فسخ کولی سی بغیر دقاضی به نکاح فسخ نه وی. کمافی الدرالمختار: وشرط للکل القضاء وفیه ایضا وان کان المزوج غیرهما ای غیر الاب وابیه ولو الام او القاضی او وکیل الاب الخ لهما خیار الفسخ بالبلوغ الخ بشرط القضاء الخ [1]. فقط

دنابالغ او دنابالغی ولیانو ایجاب وقبول وکی آیا دبلوغ څخه وروسته دافسخ کیدی سی؟

سوال: (۱۱۰۱) زید دخپل نابالغ زوی کوزده دعمر دنابالغ لورسره وکړه دهلك اودانجلۍ پلار ایجاب اوقبول وکی اونکاح هم وسوه اواوس دواړه بالغ سویدی نودا نکاح جائزده اوکه اوس بیا دنکاح تړلو ضرورت سته که اوس هلك اوانجلۍ سره درضامندی دپلرونو ددې نکاح څخه انکار وکړي نودا قابلِ قبول دی اوکه نه؟ که نه وي نو دجدایي صورت دی؟

جواب: که باقاعده نکاح سوی وی اوایجاب وقبول دنکاح سوی وی نوپه انعقاد دنکاح کی هیڅ شك نسته اوس فسخ نه سی کیدی، اودپلار کړی نکاح دانجلۍ دبلوغ څخه وروسته نه سی فسخ کیدی ، اوکه ایجاب وقبول دنکاح دقاعدی موافق نه وی سوی بلکی صرف کوزده سوی وي اوپه لفظ دنکاح سره ایجاب وقبول نه وی بلکی صرف داسی ویل سوی وی چی دانجلۍ ولی ویلی وی چی ما تاته انجلۍ درکړه او دهلك ولی ویلی وی چی ما وکړه یاماته منظورده نودابیا وعده دنکاح ده، نکاح په دی سره په مجلس دکوزده کی نه منعقد کیږی په دی صورت کی نکاح دوباره کیدل پکاردی خوکه په ښځی اوخاوند کی څوك داتعلق نه خوښوی نودی دنکاح څخه انکار کولی سی. فقط

بی دقضاء دقاضی څخه صرف په انکار سره نکاح نه فسخ کیږی: سوال: (۱۱۰۲) دهندی نابالغی نکاح ددی عصبه ولی وکړه وروسته دبلوغ څخه یعنی په حیض راتلو سره هندی ددی نکاح څخه انکار وکی وروسته دهندی دانکار څخه دهندی ماما ددی نکاح دبل چا

[1] الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۹، ط. س. ج۳ ص۷۲. ظفیر

سره وكړه دادوهمه نكاح صحيح ده اوكه نه؟ نوكه اوله نكاح صحيح قائمه ده نودقاضي اوچې كم خلګ په دې دوهمه نكاح كې شريك سوه نوددوى څه حكم دى؟

جواب: اوله نكاح چې كم جائز ولي كړې وه هغه صحيح ده دبلوغ څخه وروسته صرف دهندې په انكار كولو سره بغير دقضاء دقاضي څخه نكاح منسوخ اوفسخ نه ده [1] نو دوهمه نكاح چې كمه دهندې ماما كړيده هغه صحيح نه سوه [2] اوسره دعلمه چې كم خلګ په دې كې شريك سويدي اوچې چا دوهمه نكاح تړلې ده هغوى ګنهګار سوه توبه دې وكاږي اواعلان دې وكړي چې دوهمه نكاح نه ده سوې. فقط

دمور تړلې نكاح دبلوغ څخه وروسته انجلۍ فسخ كولې سي اوكه نه؟ سوال: (۱۱۰۳) دنابالغې هندې نكاح دمور په ولايت سره وسوه اوس دهندې عمر پنځلس كاله دى اوتر اوسه لاهنده دمور اوپلار په كوركې اوسيږي نوپه دې صورت كې هنده دمور تړل سوې نكاح فسخ كولې سي اوكه نه؟ اودبلوغ څخه وروسته هندې ته اختيار دفسخ دنكاح سته اوكه نه؟ اودهندې ولي څوك دى؟

جواب: دمور ولايت دنكاح دنابالغې دعصباتو څخه وروسته دى نوكه څوك ولي عصبه دنابالغې موجود نه وي لكه اكا وغيره نودمور تړل سوې نكاح صحيح سوه، هندې ته وروسته دبلوغ څخه خيار دفسخ دنكاح حاصل وو، خوددې فسخ دپاره دقاضي قضاء شرط ده، اودا خيار وروسته دبلوغ څخه كيږي كه دبلوغ سره سمدستي دې ددې نكاح څخه انكار ونه كې اوپه قاضي يې فسخ نه كړه نوبيانه سې فسخ كيدې، په درمختار كې دي چې: ولايمتد الى اخر المجلس الخ اى مجلس بلوغها الخ شامى [3] وفى الدرالمختار ايضا بشرط القضاء الخ [4]. فقط

دولد الزنا نابالغې انجلۍ نكاح مور وكړه نوآيا دېته دبلوغ څخه وروسته دفسخ اختيار سته؟

سوال: (۱۱۰۴) ديوې انجلۍ سكندر نكاح ددې مور عصبه وكړه اوسكندر ولد الزناء ده ددې دبالغيدوسره دولي عصبه نكاح كول فسخ كړل نودافسخ كول صحيح دى اوكه نه؟

---

(۱) هل اعطيتنيها ان كان المجلس للنكاح وان للوعد فوعد (درمختار) اى لانشاء عقده لانه يفهم منه التحقيق فى الحال فاذا قال الاخر اعطيتكها اوفعلت لزم وليس للاول ان يقبل (ردالمحتار كتاب النكاح ج۲ ص۳۰۴، ط. س. ج۳ ص۱۲). ظفير

(۲) بشرط القضاء للفسخ (درمختار) حاصله انه اذا كان المزوج للصغير والصغيرة غير الاب والجد فلهما الخيار بالبلوغ اوالعلم به فان اختار الفسخ لايثبت الفسخ الابشرط القضاء (ردالمحتار باب الولى ج۲ ص۴۲۱. ط. س. ج۳ ص۷۰). ظفير

(۳) ردالمحتار باب الولى ج۲ ص۴۲۵، ط. س. ج۳ ص۷۴. ظفير

(۴) الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الولى ج۲ ص۴۲۱ ، ط. س. ج۳ ص۷۰. ظفير

جواب: دسکندر مور که دسکندر مذکوره ولد الزنا نکاح کړی وی نونکاح صحیح سوه او دبلوغ څخه وروسته سکندرته دفسخ اختیار سته خودافسخ بغیر دقاضی دفسخ کولو څخه نه صحیح کیږی. کمافی الدرالمختار وغیره ولٰکن لهما خیار الفسخ بالبلوغ بشرط القضاء، اوپه شامی کی دی چی: وحاصله اذا کان المزوج للصغیر والصغیر غیر الاب والجد فلهما الخیار بالبلوغ اوالعلم به فان اختار الفسخ لایثبت الفسخ الابشرط القضاء الخ شامی (۱) ج۲.

غرض داچی کله دقاضی شرعی فسخ ددی دپاره شرط ده نوپه دې زمانه کی دفسخ هیڅ صورت نسته ددی وجه څخه بی دخاوند دطلاقو څخه دجدایي هیڅ صورت نسته.

اکا نکاح وکړه دبالغیدو څخه وروسته انجلۍ ناراضګی ښکاره کړه څه دې وسی؟ سوال: (۱۱۰۵) دیوې نابالغی انجلۍ نکاح ددی سکه اکا دیوه نابالغ هلك سره وکړه چی کله دا انجلۍ بالغه سوه نودخپلی ناراضګی ښکاره کولو دپاره یې خپل اکا ته ولیکل چی ماته ستا تړل سوی نکاح منظوره نه ده، ددی څخه وروسته تردرو کالو پوری دی سکوت وکی، اوس دعدالت څخه دنکاح دفسخ کولو کوشش کوی نوپه دی صورت کی نکاح قائمه ده اوکه فسخ سوه؟

جواب: که دې دبلوغ سره سمدستی دفسخ دنکاح اظهار کړی وو نو بیاپه تاخیر سره ددی حق دفسخ نه ساقطیږی: وینبغی ان تقول فی فور البلوغ اخترت نفسی ونقضت النکاح فبعده لایبطل حقها بالتاخیر حتٰی یوجد التمکین الخ شامی (۲) ص۳۰۹ ج۲. فقط

شعیه دهوکه وکړه اونکاح وسوه نودا به فسخ وي؟ سوال: (۱۱۰۶) زید چی نوی نوی ښار ته راغلی وو شعیه وو خالد سنی المذهب ته یې په قسم سره دایقین ورکی چی دی سنی دی اوخالد دنابالغه لور هنده سره یې نکاح وکړه دعقد څخه وروسته دزید څخه افعال دشعیه ګانو تعزیه داری وغیره ښکاره سوه په دی صورت کی دخالد لور هندی ته دفسخ دنکاح اختیار به وی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: لوزوجته علی انه حر اوسنی الخ فبان بخلافه الخ کان لها (۳) الخیار. ددی عبارت څخه واضحه ده چی په دی صورت کی ښځی ته دفسخ دنکاح اختیار سته. فقط

داکا په نکاح ورکولوکی خیار بلوغ سته خوپه تاخیر کولو سره داباطلیږی: سوال: (۱۱۰۷) یو

---

(۱) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۱ ، ط.س. ج۳ ص ۲۹. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۵ ، ط.س. ج۳ ص ۷۳. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۸۲۲. ط.س. ج۳ ص ۵۰۱. ظفیر

سړی دمرګ څخه مخکی خپل ورونوته دوصیت مطابق نکاح وکړه په وخت دنکاح دغه انجلۍ نابالغه وه اوس دانکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟ او وصی چی وکیل یې مړ دی اووکیل نکاح تړلی ده نودابه دموکل نکاح ګڼل کیږی او دانجلۍ څخه به په دی اعتبار سره حق دفسخ نه وی او دبلوغ څخه لږ څه وروسته یې فسخ کولی سی اوکه نه؟

جواب: ددی وصیت شرعا هیڅ اعتبار نسته اونه په حیثیت دوصی کیدو وصی ته دیتیمی دنکاح اختیار سته بلکی دمړی ورونو چی په حیثیت دولی کیدو دیتیمی نابالغی کمه نکاح کړیده هغه په حیثیت دولی کیدو صحیح ده نه نیابةً عن المیت کما قال فی الدرالمختار: ولیس للوصی من حیث هووصی ان یزوج الیتیم مطلقا وان اوصی له الاب بذالك علی المذهب نعم لوکان قریبا اوحاکما یملکه بالولایة (۱). الخ او وکالت وروسته دمرګ دموکل څخه باطلیږی ددی وجه څخه دمړی وروڼه دده دمرګ څخه وروسته وکیلان پاته نه سوه نه په وجه دوکالت، اوپه دی کی نابالغی ته وروسته دبلوغ څخه اختیار دفسخ دنکاح سته اوپه تاخیر سره خیار باطلیږی: ولایمتد الی اٰخر المجلس لانه کالشفعة، درمختار (۲)، او دا رکم په دی صورت کی دفسخ دنکاح دپاره قضاء دقاضی شرط ده یعنی که نابالغی دبلوغ سره سمدستی دانکاح نامنظوره کړه اوفسخ کول یې وغوښتل نوبغیر دقضاء دقاضی به فسخ نه وی. کما فی الشامی وحاصله انه اذا کان المزوج للصغیر والصغیرة غیر الاب والجد فلهما الخیار بالبلوغ اوالعلم به فان اختار الفسخ لایثبت الفسخ الا بشرط القضاء الخ ص۳۰۷ جلد ثانی شامی (۳). فقط

په بلوغ کی دسن هجری اعتبار: **سوال**: (۱۱۰۸) اقبال بیګم په خپلی رضا سره خپله نکاح دمیرزا عظیم سره وکړه حال دادی چی ددی عمر دسن عیسوی په حساب دری ورځی کم دپنځلسو کالو وو اوپه حساب دسن هجری څو میاشتی لوړ دپنځلسو کالو وو نوپه دی حالت کی دانکاح صحیح سوه اوکه نه؟ اوبی دطلاقو دانکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟

جواب: شرعا په پنځلسو کالو په پوره کیدو باندی ښځه بالغه ګڼل کیږی (۴) نوپه صورت مذکوره کی نکاح ددی ښځی دمرزا عظیم بیګ سره صحیح ده په شرط ددی چی میرزا عظیم داقبال بیګم کفو وی نوبغیر دطلاق دخاوند به نکاح نه وی فسخ. فقط

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ص ۴۳۱ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۷۹. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۵. ط.س. ج۳ ص ۷۴. ظفیر

(۳) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۱ ، ط.س. ج۳ ص ۷۰. ظفیر

(۴) اجل سنة قمریة بالاهلة علی المذهب (درمختار) وجهه ان الثابت عن الصحابة کعمر وغیره اسم السنة واهل الشرع انما یتعارفون الاشهر والسنین بالاهلة فاذا اطلقوا السنة انصرف الی ذالك (ردالمحتار باب العنین ج۲ ص ۸۱۸. ط. س. ج۳ ص۴۹۷). ظفیر

دنابالغی دپلار ماما داواده کړه نودا نکاح به فسخ وی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۰۹) دیوې انجلۍ واده ددی دپلار ماما په خپل ولایت سره په کم عمری او نابالغی کی چی دانجلۍ پلار په واده کی شریك وو خو دده په ولایت ونه سوه وکړه خوچی هلك بداعمال کوی ددی وجه څخه انجلۍ دهلك کره دتللو څخه انکارکوی اوددی اراده ده چی سن بلوغ ته ورسیږی نو دنکاح څخه انکار وکی آیاچی انجلۍ بالغه سی نو دنکاح دفسخ اختیار ورته سته اوکه نه؟

جواب: دنابالغی دپلار په وجود کی قطعًا ماما ته ولایت دنکاح دنابالغی نسته خوکه پلار اجازه ورکړی نوبیا ماما نکاح کولی سی اودا نکاح به دپلار ګڼل کیږی او دپلار تړلي نکاح انجلۍ دبالغیدو څخه وروسته نه سی فسخ کولی. کما فی الدرالمختار: ولزم النكاح ولو بغبن فاحش الخ او بغير بغير كفو ان كان الولى المزوج بنفسه بغبن اباً او جداً الخ وان كان المزوج غيرهما اى غير الاب وابيه ولو الام او القاضي او وكيل الاب الخ لكن في النهر بحثاً لو عين لوكيله القدر صح الخ (درمختار) وكذا لوعين له رجلاً غير كفو كما بحثه العلامة المقدسي الخ شامي [1]. نوددی بحث څخه معلومه سوه چی که پلار خاوند معلوم کی اووکیل ته یې وویل چی دده سره نکاح وکړه نودا نکاح هم نه سی فسخ کیدی. فقط

دنابالغی داکا زوی په حیثیت دولی نکاح وکړه نو ددی دفسخ څه طریقه ده؟ سوال: (۱۱۱۰) عبدالرحمٰن خان وفات سو اووارثان یې یوه ښځه سکینه یوه نابالغه لور ظریفه اویووراره فیض الله خان پریښوول، فیض الله خان دظریفه نکاح بی درضاء دسکینې دخپل زوی نصرالله خان سره وکړه لږورځ وروسته سکینه دوهم واده وکړی، ددی څخه وروسته فیض الله خان دعوىٰ داستمرار دتړولو دحق دسهارنپور دججج سره وکړه چی ما دظریفې نکاح دخپل زوی نصرالله خان سره کړیده بل ځای دی دظریفی نابالغی نکاح ونه سی عدالت داحکم وکی چی دانکاح په وجه دطمع اختیار منده ده چی دبلوغ څخه وروسته دانکاح دعدالت په ذریعه منسوخ کړی اودوهمه نکاح وکړی نودې دخپل اول حیض په راتلو خپله مخکی نکاح نامنظور کړه اودعدالتِ سهارنپور دجج سره یې هم فسخ کړه، جج صاحب مسلمان نه وو ددی څخه وروسته ظریفه خپله نکاح دبل سړی سره وکړه دادوهمه نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دظریفی نابالغی ولایت دنکاح ددی داکا زوی فیض الله خان ته

[1] وګوری الدرالمختار وردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۸ ، ۴۱۹ ، ط.س. ج۳ ص ۲۷، ۲۸. ظفیر

حاصل وو ځکه چي دی عصبه دی اوولایت دنکاح دعصباتو سره وی: الولی فی النکاح العصبة بنفسه الخ (۱). بناء پردی چی کمه نکاح دظریفی نابالغی ددی داکازوی فیض الله خان دخپل زوی نصرالله خان سره کړي وه هغه شرعا صحیح اومنعقده وه اوانجلۍ ته دبالغیدو څخه وروسته اختیار حاصل وو خوقضا دقاضی شرعي ددې فسخ دپاره شرط ده، بې له حکمه دقاضي به دانکاح فسخ نه وی اوحکم دحاکم غیرمسلم په دی باره کی شرعا معتبر نه دی (۲)، نوددی وجه څخه چی په صورت مسئوله کی نکاح دظریفې چی دنصرالله خان سره سویده فسخ نه سوه نودوهمه نکاح دظریفې صحیح نه سوه بلکه دنصر الله خان څخه دی طلاق واخلی اوعده دی تیره کړی نودوهمه نکاح کول په کاردی که جج صاحب خاوند ته حکم ورکړی اوطلاق ځینی واخلی نوهم به طلاق واقع سی یا دیوه مسلمان ریاست څخه چی کم با اختیار وی نکاح دی فسخ سی په شامی کی دی: اذا کان المزوج للصغیر والصغیرة غیر الاب والجد فلهما الخیار بالبلوغ اوالعلم به فان اختار الفسخ لایثبت الفسخ الا بشرط القضاء (۳) انتهٰی. اوپه جامع الفصولین کی دی: اواختار احدهما الفرقة ورد النکاح بخیار البلوغ لم یکن ردا ولا یبطل العقد مالم یبطل بحکم یحکم به القاضی الخ (۴). په مجموعة الفتاوٰی جلد دوهم کی په فسخ دنکاح کی په خیار دبلوغ سره همداسی استفتاء رانقل کړیده. فقط

دورور نکاح وروسته دبلوغ څخه انجلۍ فسخ کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۱۱) یوه یتیمه نابالغه داتو کالو انجلۍ دمور اودورور په ولایت یونابالغ هلك ته په نکاح سوه اوس هلك بالغ دی اوانجلۍ ددیارلسو کالو قریبة البلوغ ده خوحیض نه دی راغلی اودهلك دبدکرداری دوجه دخاوند کره نه ځی نوآیا په داسی صورت کی دا انجلۍ خپله نکاح چی په ولایت دمور اوورور سویده فسخ کولی سی اوکه نه؟ اوهلك دعوٰی کوی چی زما ښځه دی زماپه قبضه کی راکول سی اوانجلۍ اودانجلۍ ولی دواړه دخاوند څخه نارضا دی نوهلك ته انجلۍ په قبضه کی ورکول کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دا انجلۍ قبل البلوغ خپله نکاح نه سی فسخ کولی اوبالغه کیدل ددی په پوره کیدو دپنځلسو کالو دی یاپه حیض وغیره علاماتو دبلوغ سره دی او

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۷ ، ط. س. ج۳ ص ۷۲. ظفیر

(۲) وبه علم ان تقلید الکافر صحیح وان لم یصح قضاءه علی المسلم حال کفره (ردالمحتار کتاب القضاء ج۴ ص ۴۱۴. ط.س. ج۵ ص ۳۵۴). ظفیر

(۳) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۱ ، ط.س. ج۳ ص ۲۷. ظفیر

(۴) ردالمحتار باب القسم ج۲ ص ۵۴۹. ط. س. ج۳ ص ۲۷. ظفیر

داهم فقهاؤ تصریح کړیده چې قضاء دقاضی ددی فسخ دپاره شرط دی په درمختار کی دی: وان کان المزوج غیرهما ای غیر الاب وابیه الخ لهما خیار الفسخ بالبلوغ الی ان قال بشرط القضاء [1] الخ. اوپه موجوده حالت کی دانجلۍ عمر دیارلس کاله دی اودا قریبة البلوغ ده اوطاقت دجماع لری نوخاوند ته دی وسپارل سی، په شامی کی دی: وقد صرحوا عنه بان الزوجة اذا کانت صغیرة لاتطیق الوطی لاتسلم الی الزوج حتی تطیقه والصحیح انه غیر مقدر بالسن بل یفوض الی القاضی بالنظر الیها من سمن اوهزال [2] الخ ص۳۹۹ جلد ثانی باب القسم وفی باب المهر من الدرالمختار وللزوج المطالبة بتسلیمها ان تحملت الرجل الخ [3]. فقط

پلار دخپل واده په لالچ کی دنابالغی لور واده وکی نودا نکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟

سوال: (۱۱۱۲) یوسړی پریوی ښځی عاشق سو او ددی سره یې نکاح کول غوښتل پلار عاشق ته وویل چې ته خپله لور مخکی زما زوی ته په نکاح کړه نو بیابه زه تاته واده درکړم نوده دخپلی کوچنی لور نکاح ددغه هلك سره وکړه وروسته یې په خپل مینځ کی نااتفاقی راغله نودغه انجلۍ مذکوره دبلوغ څخه وروسته دانکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟ په درمختار کی دی: وان عرف من الاب والجد سوء الاختیار مجانةً وفسقًا لایصح النکاح اتفاقا الخ. فقط

جواب: په دی صورت کی دپلار سوی نکاح صحیح ده صغیری ته دبلوغ څخه وروسته اختیار دفسخ دنکاح نسته، ددرمختار پردی عبارت منقوله باندی شامی دابحث کړیدی چې صاحب دفتح القدیر فرمایي چې عدم صحت دنکاح په صورت دمشهوریدو دپلار دی په سوء اختیار اودا امر اول پرنکاح دصغیره په خپله کولو باندی صادق نه راځی: والحاصل ان المانع هوکون الاب مشهوراً بسوء الاختیار قبل العقد فاذا لم یکن مشهوراً بذلك ثم زوج بنته من فاسق صح (الی ان قال) فلو زوج بنتاً اخری من فاسق لم یصح الثاني لانه کان مشهوراً بسوء الاختیار قبله بخلاف العقد الاول لعدم وجود المانع قبله الخ [4]. فقط

دفرقت دپاره که ښځه عیسایي سی نوهم فسخ نه راځي: سوال: (۱۱۱۳) یوه ښځه په دی غرض عیسایي سوه چې نکاح فسخ سی په داسی صورت کی به نکاح فسخ وی اوکه نه؟

---

[1] الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۹ ، ط.س. ج۳ ص ۷۷. ظفیر
[2] ردالمحتار باب القسم ج۲ ص ۵۴۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۰۴. ظفیر
[3] الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب المهرمطلب لابی الصغیرة المطالبة بالمهر ج۲ ص۵۰۸، ط.س. ج۳ ص۱۲۱. ظ
[4] ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۸ ، ط. س. ج۳ ص ۲۷. ظفیر

جواب: قال فی الدرالمختار وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ ثم قال وتجبر علی الاسلام وعلی تجدید النکاح زجرا لها بمهر یسیر کدینار وعلیه الفتوٰی الخ وافتٰی مشائخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجرًا الخ (۱). نومعلومه سوه چی دبلخ دمشائخو فتوٰی په صورت مسئوله کی پر عدم دفرقت ده. فقط

سوال: (۱۱۱۴) زینت دبکر ښځي دنکاح دفسخ کولو دپاره دهوکه وکړه اونصرانی سوه اوعیسایي مذهب يي قبول کی، اوبیا مسلمانه سوه اونکاح يي دخالد سره وکړه آیا دا حیله جائز ده اوکه نه؟ اوبکر مستحق ددی دنکاح دی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار: وتجبر علی الإسلام وعلی تجدید النکاح، وفي الشامي: وتمنع من التزوج بغیره بعد إسلامها ولا یخفی أن محله ما إذا طلب الزوج ذلك ، أما لو سکت أو ترکه صریحا فإنها لا تجبر وتزوج من غیره لأنه ترك حقه (بحر ونهر)، ددی څخه معلومه سوه چی که اول خاوند ددی سره نکاح کول غواړی نوپه جبر سره نکاح کولی سی. فقط

دریم فصل

نكاح په ذريعه دفضولی او دوكيل

<u>فضولی نکاح وکړه اوښځی قبول وکی نوڅه حکم دی؟</u> سوال: (۱۱۱۵) یوسړی په مجمع کی دا وویل تاسی شاهد سی چی مافلانی ښځه چی غائبه ده ددی حاضر سړی سره په نکاح کړه، اودا نکاح کوونکی سړی دښځی ولی نه دی، خوچی کله ښځی ته خبر ورسیدی نودی نکاح قبوله کړه نوآیا دانکاح جائز اومکمله سوه اوکه دمهر بیان ونه سی نوڅومره مهر به واجب وی؟

جواب: چی کله خاوند دانکاح قبوله کړه اوښځی ته چی خبر ورسیدی نوهغې هم دفضولی دانکاح قبوله کړه نودا نکاح صحیح سوه. کذا فی الدرالمختار (۲). فقط

<u>بی داجازی دولی څخه بل چا نکاح وکړه نوڅه حکم دی؟</u> سوال: (۱۱۱٦) دیوی انجلۍ مور، پلار، نیکه او ورور مړه سول اوددی دنیکه اخښي چی پردی سړی دی ددی مذکوره انجلۍ نکاح داتوکالو په عمرکی وکړه چی انجلۍ بالغه سوه دغه وخت يي دشاهدانو په

---

(۱) وګورئ: ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۴۰ ، ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفیر

(۲) ونکاح عبد او امة بغیر اذن السید موقوف علی الاجازه کنکاح الفضولی سیجیئ فی البیوع توقف عقوده کلها ان لها مجیز حالة العقد والا تبطل (درمختار) قوله کنکاح الفضولی ای الذی باشره مع آخر اصیل اوولی وکیل الخ قال فی البحر الفضولی من یتصرف لغیره بغیر ولایته او وکالته (ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص ۴۴۹ ، ط. س. ج۳ ص۹۷). ظفیر

مخکی نکاح فسخ کړه نوشرعا دانکاح فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: دانجلۍ دنیکه اخنبی ښکاره دی چی ددی نابالغی ولی نه دی بلکی پردی او فضولی دی، نودا موقوفه ده دیوولی پراجازه باندی اوکه ولی نه وی نودا نکاح باطله ده یاپه خپله دنابالغی په اجازه وروسته دبلوغ څخه موقوفه ده اوچی کله مذکوره انجلۍ دبلوغ څخه وروسته دانکاح فسخ کړه اوددی څخه یي انکار وکی نودا باطله سوه په در مختار کی دی: ونکاح عبد وامة بغیر اذن السید موقوف علی الاجازة کنکاح الفضولی سیجیئ فی البیوع توقف عقوده کلها ان لها مجیز حالة العقد والاتبطل (۱) الخ وتفصیله فی الشامی (۲). فقط

چی دښځی سره سړی په خپله دشاهدانو په مخکی نکاح وکړه اوفضولی قبول وکړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۱۷) که زید دهندی سره داسی نکاح وکړی چی بی له اجازی او داطلاع دهندی عمر اوبکر ته ووایي چی تاسی دواړه شاهدسی چی ما دهندی سره نکاح وکړه اوخالد فضولی فی المسجد ووایي چی ما دهندی دطرفه قبوله کړه نودا ښکاره ده چی ددوهم فضولی قبول بالاتفاق دغائب پراجازه موقوف دی، ددی خبری پوښتنه کول دی چی که ددی قول مفتٰی به په موجب چی په کم شی کی جد اوهزل برابر دی په دی کی دلفظ دمعنٰی حقیقت بلکی دمضمون دعلم هم شرط نسته په دی صورت کی چی هنده غائبه من المجلس ته په بل وخت کی په عربی زبان کی مثلاً دا وویل سی چی: رضیتَ بالتزویج الذی قبله عنی خالد. نودابه شرعا اجازه وی اومذکوره نکاح به منعقده سی او که نه؟

جواب: وکیل جوړول یا دفضولی دعقد په اجازه ورکولو کی رضا دموکله او مجیزه ضروری ده او درضا مفهوم دادی چی دی په دې پوه سی کنې نوبی له علمه به رضا دعقد موقوف څنګه حاصلیږی. (۳) فقط

دفضولی دنکاح په خبر هلک چپ سو بیا کله چی دانجلۍ دوهم واده بل ځای وسو نوهلک وایي چی ددی انجلۍ نکاح سویده: سوال: (۱۱۱۸) دامیر خان دفوج ملازم دنکاح قبولیت یوفضولی وکړه اوامیر خان ته یي په ذریعه دخط خبر ورکی چی ما داستا نکاح دفلانی ښځی سره کړیده امیر خان ددی عقد دمنظوری او دنامنظوری هیڅ جواب ورنه کی یعنی چپ پاته سو په دی حالت دسکوت کی فضولی مړسو او دانجلۍ مور دخپلی

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الکفاءة ج۲ ص ۴۴۹ ، ط.س. ج۳ ص ۹۷. ظفیر
(۲) وګوری شامی باب الکفاءة ج۲ ص ۴۴۹ ، ط.س. ج۳ ص ۹۷. ظفیر
(۳) والعبرة فی العقود للمعانی دون الالفاظ. ظفیر

لور نکاح بل ځای وکړه اوس امیر خان سره دعدم قبولیت دنکاح دفضولی مدعی دنکاح دی آیادی ښځی ته به دامیر خان منکوحه ویل کیږی اوکه ددوهم خاوند ښځه به متصور کیږی؟

جواب: په دی صورت کی امیر خان اوس هم دفضولی نکاح قبوله کړی نونکاح به دده صحیح اونافذه وی اودوهمه نکاح باطله اوحرامه ده په درمختار کی دی: ولو اجاز من له الاجازة نکاح فضولی بعد موته صح لان الشرط قیام المعقود له واحد العاقدین لنفسه الخ قوله واحد العاقدین هو العاقد لنفسه کما في البحر ای سواء کان اصیلا او ولیا او وکیلا فانه عقد لنفسه بمعنی انه غیر فضولي تامل وانظر ما لو کان فضولیا بان کان کل من العاقدین فضولیین والظاهر ان الشرط قیام المعقود لهما ([1]). فقط

په لاندینی صورت کی نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۱۱۱۹) زید په یوه معامله کی داقسم واخیستی چی که زه دفلانی کار وکړم نوچی زه کمه نکاح یادکمی ښځی سره نکاح وکړم نوپه هغه دی طلاق مغلظ وی اوس که زید خپله نکاح په ذریعه دوکیل فضولی په لاندینی صورت وکړی چی زید خپل یوخاص محب ته دا ووایي چی کله زما دنکاح کولو وخت قریب راسی او دهنده دطرفه زما دایجاب اوقبول ځخه مخکی ته ددوو شاهدانو په وړاندي دا ووایه چی ما دزید دجانبه هنده په عوض ددومره مهر په نکاح کي قبوله کړه، ددې ځخه وروسته ناکح دهنده نکاح دزیدسره وکړه اووې ویل چی هنده ما ستاپه نکاح کی درکړه اوزید په ژبه وایي، ماقبوله کړه نوپه دی صورت کی به نکاح وسی اوکه نه؟ او زید خو مذکوره سړی خپل وکیل نه کی؟

جواب: په داسی طریقی سره نکاح نه صحیح کیږی ځکه چی یوسړی فضولی چی ولی او وکیل دجانبینو نه وی هغه متولی دایجاب اوقبول ددواړو طرفینو نه سي کیدی، په درمختار کي دي: ویتولی طرفي النکاح واحد بإیجاب یقوم مقام القبول في خمس صور کأن کان ولیا أو وکیلا من الجانبین أو أصلا من جانب ووکیلا أو ولیا من آخر أو ولیا من جانب وکیلا من آخر کزوجت بنتي من موکلي لیس ذلك الواحد بفضولي ولو من جانب الخ ([2])، نوپه صورت مذکوره کی په ذریعه دفضولی دزید نکاح موافق دطریقۂ مذکور په سبب دعدم حنث کیدی په دی شرط چی دښځی دطرفه ایجاب کوونکی بل سړی وی چی ددی ولی وی اوکه وکیل اوکه فضولی وی: قال فی ردالمحتار کنکاح

([1]) ردالمحتار باب الکفاءة مطلب في الوکیل والفضولي في النکاح ج۲ ص۴۵۱، ط.س. ج۳ ص۹۵. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الکفاءة مطلب فی وکیل والفضولی فی النکاح ج۲ ص ۴۴۹، ط. س. ج۳ ص ۹۲. ظفیر

الفضولي اى الذي باشره مع اخر اصيل او ولى او وكيل او فضولي اما لو تولى طرفي العقد وهو فضولي من الجانبين او احدهما فانه لا يتوقف الخ اي بل يبطل (۱) وفي كتاب الايمان منه حلف لا يتزوج فزوجه فضولي فاجاز بالقول حنث وبالفعل ومنه الكتابة خلافا لابن سماعة لا يحنث به يفتى خانية ، قوله: ومنه الكتابة اى من الفعل ما لو اجاز بالكتابة (۲) الخ شامی. فقط

په صورت مذکوره کی دفضولی نکاح صحیح نه ده: سوال: (۱۱۲۰\۱) زید دهندې سره داسی نکاح وکړه چی بی له اطلاع او اجازی يې دهندی خالد وليدی دوو کسانو ته يي هنده ښه وښووله اوورته يي وويل چی ما ستاسی دواړو په مخکی دهندی سره نکاح وکړه ددی څخه وروسته يي داعبارت: قبلتُ تزويج من ارسل هذا القرطاس الى نفسى من نفسه، يي وليکی اوديو هلك په لاس يې هندی ته وليږی اودی هلك ته يي وويل چی هندی ته ووايه چی دايوه دعا ده زيد ليکلی ده اورا ليږلی يي ده دادری واره ووايه ددی فائده به درته وروسته وښوول سی نودی هلك همداسی وکړل اودا عبارت يي دری واره په ووايه، خوهندی ته داګمان هم نه وو چی ددی په ويلو سره به نکاح وسی داورته يقيناً معلومه وه چی داکاغذ زيد راليږلی دی نوښکاره ده چی دافضولی نکاح پراجازه موقوفه وی اوعلی مافی الدرالمختار وغيره داهم مفتی به ده چی په څه کی جد اوهزل برابر وی نوپه دی کی دلفظ دمعنٰی حقيقت يا دمضمون علم شرط نه دی نوپوښتنه داده چی په مذکوره طريقه شرعا دهندی اجازه وسوه اوکه نه؟ په دوهم تقدير آيا اجازه هم کم از کم ددوو شاهدانو په مخکی کيدل شرط دی ددی وجه څخه ونه سوه اوکه دڅه بل څه وجه څخه چی دکمی وجه نه ده سوی دغه وجه مفصل اومدلل وليکی اجرکم علی الله؟

جواب: په درمختار کی دی: لا يتوقف الايجاب على قبول غائب عن المجلس في سائر العقود من نكاح وبيع وغيرهما بل يبطل الإيجاب ولا تلحقه الإجازة اتفاقا الخ ثم قال: ويتولى طرفي النكاح واحد الخ ليس ذلك الواحد بفضولي ولو من جانب وإن تكلم بكلامين على الراجح لأن قبوله غير معتبر شرعا لما تقرر أن الإيجاب لا يتوقف على قبول غائب (۳) الخ وفی ردالمحتار قوله لما تقرر حاصله ان الايجاب لما صدر من

(۱) ردالمحتار باب الكفاءة مطلب فی الوكيل والفضولی فی النكاح ج۲ ص ۴۴۹ ، ط.س. ج۳ ص ۹۷. ظفير

(۲) وګوری ردالمحتار باب اليمين فی الضرب والقتل وغيرذالك مطلب لايتزوج فزوجه فضولی ج۲ ص ۱۸۸، ۱۸۹. ط.س. ج۳ ص ۸۴۲. ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الكفاءة مطلب فی الوكيل والفضولی فی النكاح ج۲ ص ۴۴۷ – ۴۴۸ ، ط. س. ج۳ ص ۹۲. ظفير

الفضولي وليس له قابل في المجلس ولو فضولياً آخر صدر باطلاً غير متوقف على قبول الغائب ([1]) الخ فلا يفيد قبول العاقد بعده ([2]) الخ ص۳۲۲ وفيه ايضاً قوله: ولو من جانب اى سواء كان فضولياً من جانب واحد او من جانبين الخ اوكان فضولياً من احدهما وكان من الاخر اصيلاً او وكيلاً او ولياً ففي هذه الاربع لا يتوقف بل يبطل الخ نومعلومه سوه چې په صورة مسئوله کی دفضولی نکاح موقوفه پراجازه نه وه بلکی باطله ده ددی ځخه علاوه ایجاب اوقبول ددوو شاهدانو په یوځای اوریدل ضروری دی کما فی الدر المختار: وشرط حضور شاهدين حرين الخ مكلفين سامعين قولهما معًا ([3]) الخ. غرض دا چې په صورت مذکوره کی نکاح نه ده منعقده. فقط

فضولی نکاح وکړه اوولی اجازه ورنه کړه نوځه حکم دی؟ سوال: (۱۱۲۱) دزید دلور زینب بالغی نکاح خالد فضولی دولید سره وکړه زید دخپلی محلی ځوسړی راجمع کړل اودایي وویل چې زما دلور زینب عقد زما دوراره نذیرسره کړی دی خلګو زید ته وویل که تا اجازه دعقد بل ځای ورکړیده نونکاح هلته وسوه زید حلفیه بیان وکی چې ما اجازه نه دی ورکړی، بیا نکاح دزینب دنذیر سره په اجازه دزیدوسوه نوپه دی صورت کی کم عقد صحیح دی؟

جواب: په دی صورت کی دخالد فضولی نکاح کول دزید پراجازه موقوف وه چې کله زید اجازه ورنه کړه نودا نکاح ددوی باطله سوه ([4])، اوزید په خپل ولایت دزینب نکاح چې دنذیر سره وکړه دا صحیح ده، اودخالد کړی نکاح صحیح نه سوه. فقط

په ذریعه دخط یې وکیل جوړکی اووکیل داخپل ځان ته واده کړه نوځه حکم دی؟ سوال: (۱۱۲۲) هنده ددولسو کالو انجلۍ ده اوددی ولی ماسوا ددی دموره بل ځوك نسته او دا دزید په کورکی اوسیږی چې لیری قریب یي دی زید ددی مور ته په ذریعه دډاګ خط ولیږی که ته اجازه ورکوی نوچې زه کم ځای مناسب وګڼم دهندی نکاح به وکړم، هنده په ذریعه دکارډ ددی اجازه ورکړه زید ددی نکاح دخپل ځان سره په وجود دیو سړی اوددوو ښځو وکړه یوه دزید خور ده اوبله یي مخکنی ښځه ده آیا داسی نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: ناجائز ده ([5]). فقط

([1]) ردالمحتار باب ومطلب ايضا ج۲ ص ۴۴۲ ، ط.س. ج۳ ص ۹۲. ظفير

([2]) ردالمحتار باب ايضا ج۲ ص ۴۴۸ ، ط.س. ج۳ ص ۹۷. ظفير

([3]) الدرالمختار على هامش رد المحتار كتاب النكاح ج۲ ص۳۷۳. ظفير

([4]) ونكاح عبد وامة بغير اذن السيد موقوف على الاجازة كنكاح الفضولى توقف عقوده كلها ان لها مجيز حالة العقد والا تبطل (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۴۹ ، ط.س. ج۳ ص ۹۷). ظفير =

یوه ښځه چاوکیله کړه هغې دخپل خاوند سره ددې واده وکې: سوال: (۱۱۲۳) فاطمې یوې ښځې زینب ته وویل چې زه تاته دخپلې لور دواده دوکالت اختیار درکوم چې ته په خپله خوښه چې په کم ځای کې غواړې ددې واده وکړه زینب په وجود ددوو سړیو ددې انجلۍ نکاح دخپل خاوند خالد سره وکړه حال دادې چې انجلۍ ته دوکالت اودنکاح خبر نسته، وروسته ورته معلومه سوه او داپه اوریدو خاموشه سوه اودا انجلۍ بالغه نه ده بلکې بلوغ ته نژدې ده نوآیا دانکاح جائزسوه اوکه نه؟ اوآیاپه جواز اوپه عدم جوازکې دانجلۍ اطلاع اوغیر اطلاع لره هم په صورت مذکوره کې دخل سته اوکه نه؟ یعنې په کمو صورتونو کې جائز کیدې سې اوپه کمو کې نه؟

جواب: اول په دې کې دابحث دې چې دمور ولایت دنکاح دنابالغې وروسته ترعصباتو دې اصل ولې دنابالغې دنکاح عصبه دې په ترتیب دارث اودحجب، یعنې اول پلار بیا نیکه وان علا اوبیا ورور اوبیا اکادې الخ نوکه په عصباتو کې څوك نه وې نو ولایت دنکاح دنابالغې مور ته دې نومورکه دخپل شرعې ولایت دحاصلیدو په وخت زینب دخپلې نابالغې لور وکیله کړه اواختیار یې ورکړې چې کم ځای دې خوښه وې هلته زما دلور نکاح وکړه نوکه زینب په وجود دشاهدانو دخپل خاوند سره نکاح وکړه نودا صحیح ده په دې شرط چې ددې خاوند کفو ددغه منکوحې وې ([1]). فقط

ولي که دوهم سړي وکیل کړي نوڅه حکم دي؟ سوال: (۱۱۲۴) دورور په وجود کې بل قریب مثلا ماما وغیره دناوې دنکاح ورور یاپلار جوړسې نودمنکوحې وکالت کول جائز دې اوکه نه؟

جواب: ولې جائز چې بل قریب یاغیر قریب وکیل کړې نوجائز دې، په دې کې څه حرج نسته ([2]). فقط

یوې ښځې یوسړي ته وویل چې ته دخپل ځان سره زما نکاح وکړه نوده دشاهد په مخکې وکړه نوڅه حکم دي؟ سوال: (۱۱۲۵) که هنده ددې مضمون تحریر په ذریعه دډاګ زید ته ولیږې چې ته خپله نکاح زما سره وکړه اوزید ددې تحریر موافق خپله نکاح په طریقه

---

(۵) وکلته ان یتصرف فی امرها اوقالت له زوج نفسی ممن شئت لم یصح تزویجها من نفسهم (الدرالمختار علی هامش رد المحتار ج۲ ص ۴۵۱ ، ط.س. ج۳ ص ۹۹). ظفیر

([1]) فان لم یکن عصبة فالولایة للام (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۷۹) امره تزویج امراة فزوجه جاز (درمختار) لان الوکالة نوع من الولایة کنفاذ تصرفه علی الموکل (ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۴۲ ، ط.س. ج۳ ص۹۲). ظفیر

([2]) لان الوکالة نوع من الولایة کنفاذ تصرفه علی الموکل (ردالمحتار مطلب فی الوکیل والفضولی ج۲ ص ۴۴۲ ، ط.س. ج۳ ص ۹۲). ظفیر

دشرع شریفی دقاضی اووکیل اودشاهد په مخکی نکاح وکړه نودا نکاح به شرعا جائز وی اوکه نه؟

جواب: داسی نکاح صحیح ده خوپه شامی کی منقول دی چی زیدلره په مجلس دنکاح کی دشاهدانو په مخکی دښځی لیك اورول پکاردی اوداسی ویل په کاردی چی فلانی دفلانی لور زه دخپلی نکاح وکیل کړی یم نوددی وجه زه خپله نکاح ددی سره کوم تاسی ددی شاهدسی، نوکه په دی طریقی سره نکاح سوی وی نونکاح به صحیح وی (۱). فقط

بالغی انجلی دخپلی نکاح پلار وکیل کی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۲۶) یوبالغ سړی په سفرکی دی دده پلار په کور کی دده طرفه وکیل کیږی اوایجاب اوقبول کوی داسړی چی په سفر دی په ذریعه دخپل خط پلار ته لیکی او رالیږی چی تاته زما دطرفه دایجاب او قبول اجازه ده، نوداسی نکاح جائزده اوکه نه؟ اویا بیا دایجاب اودقبول ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح صحیح ده اووکیل دنکاح دخپل موکل دطرفه ایجاب او قبول کولی سی. .قال فی الدرالمختار: کزوجت نفسي أو بنتي أو موکلتي منك ویقول الآخر تزوجت الخ وفي الشامي قوله: کزوجت نفسي الخ أشار إلی عدم الفرق بین أن یکون الموجب أصیلا أو ولیا أو وکیلا الخ ومثل موکلتي موکلي الخ (۲) شامی. نو دوباره ددی سړی چی په سفرکی دی دایجاب اوقبول ضرورت نسته. فقط

ښځی په پنځه زره مهر دنکاح اجازه ورکړیده خو وکیل یې کم کی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۲۷) زید اوهنده دواړه بالغ دی اوددوی نکاح وسوه هنده خپل مهر پنځه زره روپی سکه رائج الوقت مقرر کړی اووکیل ته یې هدایت وکی خو دوکیل هیرسوه یا خودبل څه وجه څخه ده دقاضی په مخکی دهندی رضا په شرعی محمدی مهر باندی ښکاره کړی یعنی دوه دیناره سره زر اودرودیرش درهمه نوپه دې مهرنکاح وسوه دفریقینو په یوځای کیدلو سره اختلاف دمهر معلوم سو، هندی ددی څخه په کمه رضا نه ده اوزید دومره رقم نه منظوروی، زید هندی ته ګوتی هم نه دی وروړی اوصرف صورت یې لیدلی دی، آیا څه تعداد دمهر واجب سته؟

جواب: دانکاح موقوفه ده که زید په دی مقدارچی کمه منکوحه وایي راضی وی نو نکاح به نافذه وی اوکه راضی نه وی نوباطله به وی. کما فی النکاح الفضولی. په درمختار

---

(۱) ینعقد النکاح بالکتاب کما ینعقد بالخطاب وصورته ان یکتب الیها یخطبها فاذا بلغا الکتاب احضرت الشهود وقراته علیهم وقالت زوجت نفسی منه (ردالمحتار کتاب النکاح ص۳۶۴ ج۲). ظفیر

(۲) ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۳۲۱. ط.س. ج۳ ص۹. ظفیر

کی دزیاتی په طرف دخلاف کولو مثال سته خوښکاره داده چی دهغه حکم هم ددی په شان دی ځکه چی په صورت دخلاف وکیل ته اختیار باقی نه پاته کیږی نودی به په حکم دفضولی سی: قال فی الدرالمختار وکله بان یزوجه فلانة هکذا فزاد الوکیل فی المهر لم ینعقد (١) الخ . فقط

ښځی وکیل جوړکی او وکیل ددوو شاهدانو په مخکی خپله نکاح وکړه نوڅه حکم دی؟

سوال: (١١٢٨) یوی کونډی ښځی په وجه دبیری دفساد پټه نکاح داسی وکړه چی دکم سړی سره يي نکاح وکړه ده ته دی ښځی وویل، چی ماتاته اجازه درکړیده ته زما نکاح دخپل ځان سره وکړه ددوو شاهدانو په مخکی په پنځه روپو مهر باندی وکړه، نوچی شاهدان پردی موقعه باندی راتلی نه سوه اونه ښځه بل ځای ته تلی سوه نوددی وجه څخه دی سړی په جومات کی ددوو سړیانو په مخکی دا وویل چی فلانی ښځی ماته اجازه راکړیده چی ته زما نکاح دخپل ځان سره وکړه ددی وجه څخه زه ستاسی دواړو شاهدانو په مخکی دا ښځه په پنځه روپی مهر قبلوم او ستاسی دواړو په مخکی ددی ښځی سره نکاح کوم نوشرعًا دانکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دانکاح منعقده سوه (٢). فقط

په لاندینی طریقې سره نکاح منعقد سوه اوکه نه؟ **سوال**: (١١٢٩) دلته دنکاح داطریقه ده چی مخکی رشته وسی چی په هغه کی ټولی خبری فیصله سی تردی چی دنکاح دوخت څخه څوساعته مخکی قاضی صاحب ته دولی دطرفه اطلاع ورکول سی چی دفلانی نکاح دفلانی سره په دومره مهر به وی فلانی اوفلانی به وکیل اوشاهدان وی بیا ولی یا دده په اجازه سره دری نژدی قریبان انجلۍ ته داجازی دنکاح دپاره ورځی انجلۍ په سکوت وغیره سره اجازه ورکوی بیاقاضی صاحب دوکیل څخه اجازه خطبه وغیره وکړی ایجاب وقبول دنکاح دی کوی نوپه دی صورت باندی نکاح صحیح ده اوکه نه؟ اوپه دی صورت کی دامامانو څه اختلاف خونسته، کله خاوند حنفی اوښځه شافعی وی ددی سره خوپه نکاح کی څه فرق خونه راځی؟

جواب: په دی صورت کی موافق دتفصیل دسوال نکاح منعقدکیږی اوچی کله ولی یادده وکیل قاضی نکاح خوان ته اجازه دنکاح ورکولو ورکړی اودایجاب اوقبول کولو ورکړی نوقاضی ددی وکیل سو اوپه دی کی دچا اختلاف نسته دلته په دی بلادو کی هم قریب

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ج٢ ص٣٧٩، ط.س. ج٣ ص٢٢. ظفیر

(٢) لان الوکالة نوع من الولایة لنفاذ تصرفه علی الموکل (ردالمحتار مطلب فی الوکیل ج٢ ص٣٤٢، ط. س. ج٣ ص٩٢). ظفیر

قریب په دی صورت سره ایجاب اوقبول کیږی چی ولی یا دده وکیل قاضی نکاح خوان ته اجازه دنکاح تړلو وکړی اوخطبه وغیره ایجاب اوقبول وکړی اوپه دی کی دحنفی او دشافعی کیدو هیڅ اختلاف نسته دټولو په نزد په اتفاق داسی ایجاب اوقبول صحیح دی. کذا فی الدرالمختار وغیره من کتب الفقه (۱). فقط

څلورم فصل

مختلفی مسئلی او احکام دفسخ

آیا دقریبانو څخه علاوه په پردوکی ښه نه دی؟ سوال: (۱۱۳۰) زید دخپلی ترور دلور یا داکا دلور سره نکاح نه خوښوی دبعضو مصلحتونو دوجه آیا دحدیث شریف په وجه په پردی خاندان کی واده ښه کیدی سی؟

جواب: په شریعت کی په دې باره کی توسیع ده چی کم ځای یې مناسب ګنی هلته واده وکی (۲) په پردو کي وي او که په قریبانو کي په شریعت کي نه دا ضروري ده چي په قریبانو کي واده وکړه اونه داچی په پردوکی یې وکړه چی کم ځای دمصلحت تقاضاوی هلته دی وکړی. (۳) فقط

دبالغیدو حکم په پنځلسو کالو کی وی اودمراهق په دولسو کالو کی: سوال: (۱۱۳۱) هلك په څو کالوکی بالغیږی چی دهغه څخه پرده کول ضروری سی دښځی فتوٰی دکم عمر پر هلك ورکول سویده اومراهق په څوکالو کیږی؟

جواب: که نورڅه علامه دبالغیدو نه وی نو دپنځلسو کالو په عمر په پوره کیدو باندی دبلوغ حکم سویدی او ددولسو کالو په عمر هلك مراهق کیږی اودبالغ څخه پرده ژر کول ضروری دی (۴). فقط

دانجلۍ ولی لره دوعدی سره بیا هم دمصلحت مطابق بل ځای په نکاح ورکول جائز دی؟

سوال: (۱۱۳۲) داحمد دوستي دیوسف دلورسره وسوه تاریخ دنکاح مقررسو اودانجلۍ والاو دفرمائش موافق جامه کالی وغیره تیار سوه غرض داچي ټول سامان تیارسو اوپه

---

(۱) لان الوکالة نوع من الولایة لنفاد تصرفه علی الموکل (ردالمحتار مطلب فی الوکیل ج۲ ص۴۴۲ ، ط.س. ج۳ ص۹۲). ظفیر

(۲) قال الله تعالی فانکحوا ماطاب لکم من النساء (سورة النساء). ظفیر

(۳) الکفاءة معتبرة في ابتداء النکاح للزومه أو لصحته من جانبه أي الرجل لأن الشریفة تأبی أن تکون فراشا للدنيء ولذا لا تعتبر من جانبها لأن الزوج مستفرش فلا تغیظه دناءة الفراش وهذا عند الکل في الصحیح (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۵، ط.س. ج۳ ص۸۴). ظفیر

(۴) لا بد في کل منهما من سن المراهقة وأقله للأنثی تسع وللذکر اثنا عشر لأن ذلك أقل مدة یمکن فیها البلوغ کما صرحوا به في باب بلوغ الغلام (ردالمحتار فصل في المحرمات ج۲ ص۳۸۷، ط.س. ج۳ ص۳۹). ظفیر

ځلورو ورځوکی نکاح کیدو والاوه چی اسمٰعیل دیوسف دهمدغه لور دپاره پیغام ولیږی چی داحمد سره واده مه کوی هغه غریب دی موږ به دشلو زروکالی وکړو نوزموږ سره یي نکاح وکړی غرض داچی داحمد جامې وغیره یې واپس کړه اواسماعیل خپله نکاح ددی سره وکړه نودا فعل داسماعیل جائزدی اوکه حرام انجلۍ والاو داحمد سره وعده ماته کړه او داسماعیل سره یې دزیاتو پیسو په لالچ کی نکاح وکړه نوددوی دپاره څه حکم دی؟ فاسق اوفاجر دی اوکه څه؟

جواب: دانجلۍ اولیاؤ لره دمصلحت خیال ساتل مقدم دی اووعده خلافی کول که څه هم بی وجه ممنوع دی خوکه دانجلۍ ښه په بل ځای کی په نکاح کی وی نودانجلۍ اولیاؤ ته ددی اجازه سته بلکه ضروری دی چی دانجلۍ دمصلحت خیال وساتل سی خواسمٰعیل لره نه وو په کار چی دیوسف دلور دپاره یې دنکاح پیغام لیږلی وای، ځکه په حدیث کی دی چی: ولا یخطب علی خطبة اخیه ([1]). فقط

سړی دنکاح دعوه کوی اوښځه منکره ده نوځه باید وسی؟ سوال: (۱۱۳۳) زید دعوه کوی چی زما نکاح دهندی سره په اجازه دهندی سویده خوهنده انکار کوی اووایي چی ما گرسره هم اجازه نه ده ورکړی، ده زه په جبر دلته بند ساتلی یم دشاهدانو بیان دی چی موږ دهندی داجازی څه لفظ خونه دی اوریدلی، خوزید په وخت دنکاح دهندی دخوا څخه راغی اودا مو ځینی واوریدل چی وی ویل زماسره هنده په نکاح کولو راضی ده اواجازه ورکوی په دی بناء قاضی نکاح وتړله نوآیا دانکاح صحیح ده؟

جواب: په دی صورت کی چی ترڅو دوه عادلان شاهدان دایجاب اوقبول اوریدونکی نه وی نونکاح به ثابته نه وی اودزید په دی ویلو سره چی هنده په نکاح کولو راضی ده اجازت اورضاء دهندی نه ثابتیږی اونکاح صحیح نه سوه اودچا دنکاح شاهدی نسته کذا فی کتب الفقه ([2]). فقط

خاوند وایي نکاح وسوه اوښځه انکاري ده او شاهدان فاسقان دی نوځه حکم دی؟ سوال: (۱۱۳۴) زید په قوم کنچن په ثالث باندی په دیوانی عدالت کی ددخل زوجیت دعوٰی کړیده چی زما منکوحه ښځه ثالث اغواء کړیده اواوس دازما خلاف دثالث طرفداره ده ثالث وایي چی دایوه ډمه ده زماسره یې ملاقات وسو اوزما کورته راغله اوښځه هم ددی بیان تائیدکوی عدالت دامقدمه جرگی ته ولیږله چی ښځه دزید منکوحه ده اوکه نه؟

([1]) مشکوٰة باب اعلان النکاح والخطبة عن البخاری ومسلم ص۲۷۱. ظفیر

([2]) وشرط اسماع کل من العاقدین لفظ الاخر یتحقق رضاهما وشرط حضورشاهدین حرین اوحر وحرتین مکلفین سامعین قولهما معا الخ (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارکتاب النکاح ج۲ ص۳۷۳،ط.س.ج۳ ص۲۱). ظفیر

جرگی دزید څخه شاهدان وغوښتل زید دکنچن قوم دوه شاهدان پیش کړل جرگیانو چي کمه فیصله وکړه ددی خلاصه داده چی شاهدان عادل نه دی نوددی وجه څخه دزید نکاح ثابته نه ده اوښځه هم منکره ده په دی صورت کی دجرگی فیصله صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دداسی شاهدانو یعنی دکنچن وغیره په وخت دایجاب اوقبول کی په وجود سره نکاح منعقد کیږی خو په صورت دانکار دښځی دنکاح څخه مثلا په داسی فاسقو شاهدانو سره عند الحاکم اوقاضی نکاح نه ثابتیږی نوفیصله دجرگیانو صحیح ده ، په فاسقو شاهدانو سره به دنکاح ثبوت نه وی نوددی وجه څخه مناسبه ده چی په وخت دانعقاد دنکاح دوه عادل شاهدان موجودوی چی ایجاب اوقبول واوری چی په وخت دضرورت ددوی په شاهدی نکاح ثابته سی یاکه فاسقان وی نوچی په دوی توبه وکاږی چی دتوبی کولو څخه وروسته دوی عادل اوثقه کیږی که څه هم مخکی دزنا وغیره دحرامو مرتکب وی ([1]). فقط

ښځه اوسړی دنکاح څخه انکارکوی اوبو دریم سړی دعوٰی کوی نوڅه حکم دی؟ سوال:

(۱۱۳۵) امان خان نومي سړی دادعوٰی کوی چی صاحبزاده نومي ښځی دحکیم محمد شریف سره نکاح کړیده اودا دواړه یعنی صاحبزاده اوحکیم محمد شریف ددی نکاح څخه انکار کوی اووایي چی زموږ په مینځ کی نکاح نه ده سوی امان خان دنکاح داثابت دپاره دوه شاهدان هم پیش کوی، اوس پوښتنه ددی خبری ده، امان خان چی یودریم گړی سړی دی هغه ددوی په مینځ کی دعوٰی دنکاح لری، سره ددی چی صاحبزاده اومحمد شریف منکردی نو ددی ثالث په شاهدی پیش کولو سره به ثابته سی او ددی دواړو دانکار سره سره دا شاهدی قابل التفات ده؟

جواب: بغیر ددعوٰی به په نکاح کی شهادت مسموع نه وی اونکاح به ثابته نه وی ځکه چی په حقوق العباد کی بی ددعوٰی څخه شاهدی مسموع نه وی. کمافی الشامی فی بیان شرائط الشهادة وتقدم الدعوٰی فیما کان من حقوق العباد ([2]) الخ. ص۳۷۰ ج۴. اوپه هغه امورو کی چی په کمو کی دعوٰی شرط نه ده نوپه هغه کی نکاح داخله نه ده کما صرح به الشامی (نودا نکاح ثابته نه ده. ظفیر). فقط

([1]) وشرط حضور شاهدین حرین مکلفین سامعین قولهما معا علی الاصح الخ اوفاسقین الخ وان لم یثبت النکاح (درمختار) اعلم النکاح له حکما حکم الانعقاد فالاول ماذکر والثانی انما یکون عند التجاحد فلا یقبل فی الاظهار الا شهادة من تقبیل شهادته فی سائر الاحکام (ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۳۷۵ – ۳۷۲. ط.س. ج۳ ص۲۱). ظفیر

([2]) ردالمحتار کتاب الشاهدات ج۴ ص۵۱۳ ، ط.س. ج۳ ص۷۲۲. ظفیر

دتحريری طلاق څخه وروسته ښځه دبل سره اوسيږی او دعوٰی دنکاح يې وکړه نوڅه حکم دی؟ : **سوال**: (۱۱۳۶) هنده يوه لوفره ښځه ده دی مخکی نکاح يې ديو معمولی سړی سره سوی وه ده په بعضو وجوهو سره هندی ته تحريری طلاق (طلاقنامه) وليکی ددی څخه جلاسو نودا طلاق واقع سو اوکه نه؟ په صورت کی دوقوع دطلاق دعدی په دوران کی هنده دزيد سره چی يو دولتمند سړی وو اوسيدل شروع کړل څو ورځی وروسته زيد بی اولاده مړسو دزيد دانتقاله څخه وروسته هنده په طمع دجائيدادچی دزيد ترکه ده په ځان يي دزيد دمنکوح دعوٰی وکړه اواعلان يي وکی چی زما نکاح دزيدسره په پټه سوی وه داسی چی ماسوٰی دناکح او وکيل او ددوو شاهدانو خالد اوبکر څخه بل څوك نه وو په عام طور باندی وقوع دنکاح معلومه نه ده خودثبوت دنکاح دپاره اول خومطلق وکيل پيش کولی نه سی او دوه شاهدان چی خالد اوبکر دی دوی دهندی او دناکح دوقوع او تسليم څخه منکردی صرف ناکح قاضی دهندي موافق نکاح منی، نوپه دی صورت کی دهندی نکاح به دزيد سره شرعًا ثابته وی اوکه نه؟ اوقاضی به شرعًا څه فيصله کوی؟

جواب: هنده داول خاوند دطرفه طلاقه سويده ځکه چی په طلاق نامه سره هم طلاق واقع کيږی کما حققه فی الدرالمختار وردالمحتار [1]. باقی دهندی دعوٰی دنکاح دزيد سره بغير ددوو عادلانو شاهدانو چی دهغو شاهدی شرعا قبوله وی ثابته به نه وی. کما فی الدرالمختار قوله وفاسقين الخ اعلم أن النكاح له حكمان حكم الانعقاد وحكم الإظهار فالأول ما ذكره والثاني إنما يكون عند التجاحد فلا يقبل في الإظهار إلا شهادة من تقبل شهادته في سائر الأحكام كمافي شرح الطحاوي فلذا انعقد بحضورالفاسقين والأعميين والمحدودين في قذف وإن لم يتوبا وابني العاقدين وإن لم يقبل أداؤهم عند القاضي كانعقاده بحضرة العدوين [2] الخ. ددی عبارت اوددرمختار دعبارت څخه واضحه ده چی نکاح ددوو شاهدانو په ايجاب اوقبول په اوريدو سره منعقد کيږی که څه هم شاهدفاسق اوغير مقبول الشهادة وي، خوکه باقی وارثان ددی نکاح اقرار نه کوی نوثبوت عند القاضی به په حق دعامة الناس کی بغير ددوو معتبرو شاهدانو دشاهدی څخه نه کيږی.

سړی دنکاح دعوٰی کوی اوښځه انکار کوی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۱۳۷) يوه ښځه ديو سړی سره دشپږو کالو راهيسی اوسيده اوس ښځه دده څخه تللی ده، مذکوره سړی په

---

[1] کتب الطلاق إن مستبينا على نحو لوح وقع إن نوى وقيل مطلقا ولو على نحو الماء فلا مطلقا ولو كتب على وجه الرسالة والخطاب كأن يكتب يا فلانة إذا أتاك كتابي هذا فأنت طالق طلقت بوصول الكتاب (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق مطلب فی الطلاق بالکناية ج۲ ص۵۸۹. ط.س. ج۳ ص۲۴۲). ظفير

[2] ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۳۷۲، ط.س. ج۳ ص۲۳. ظفير

ذریعه دعدالت داګرفتاره کړه، دښځې بیان دی چې زه ددی سړی سره ددوستی په طریقه اوسیدم او اوس اوسیدل نه غواړم، او دمذکوره سړی بیان دی چې زما نکاح ددی سره په ډهلی کی سویده اویوفقیر نکاح تړلی وه، اواوس دغه فقیر مړدی اوڅه قسم دستاویز وغیره هم نسته، نوشرعًا څه حکم دی؟

جواب: که دسړی سره دوه عادل شاهدان دنکاح نه وی اوښځه دنکاح څخه انکار کوی نو دسړی دعوٰی به شرعًا ثابته نه وی، کذافی کتب الفقه ([1]). فقط

ښځې دخاوند دعنین کیدو دعوٰی وکړه اوسړی انکار وکی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۱۳۸)

که یوه ښځه دعوٰی وکړی چې زما خاوند عنین دی اوخاوند انکار کوی اووایي چې ما ددی سره وطی کړیده نوښځه اوسړی به کتل کیږی؟ اوکه کتونکی سړی غیر مسلم وی نودده شاهدی معتبره ده اوکه نه؟ اودیوه سړی شاهدی معتبره ده اوکه نه؟ اوکه دسړی عنین کیدل ثابت سی نوده ته به مهلت ورکول سی اوکه نه؟ اودکم وخته څخه به ورته به مهلت وی؟

جواب: په درمختار کی دی: ولو ادعی الوطی وانکرته فان قالت امراة ثقة واثنتان احوط الخ هی بکر الخ خیرت فی مجلسها وان قالت هی ثیب اوکانت ثیبًا صدق بحفله ([2]) الخ وفیه قبیله: ویؤجل من وقت الخصومة ([3]) الخ. ددی عبارت څخه واضحه ده چې دښځې کتل به کیږی اودغیر مسلم اعتبار نسته اودیوی ښځې مسلمانی معتبری قول معتبر دی اودخاوند په عنین ثابتیدو باندی به خاوند ته دیوکال مهلت ورکول کیږی اودمهلت وخت به دخصومت نه وی. فقط

دکلکټر څخه دنکاح ثانی اجازه په اخیستو سره منکوحه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

سوال: (۱۱۳۹) دعبدالستار نکاح دسکینه بی بی سره وسوه تقریبا بیا اووه کاله وسوه چې دسکینی پلار محمد صدیق سکینه دعبد الستار دکوره لطائف الحیل خپل کور ته بوتله څو ورځې وروسته عبدالستار دراليږلو دپاره وويل خومور اوپلار یي را ونه لیږله مجبورًا عبدالستار دعوٰی درخصتی وکړه دمقدمی په دوران کی محمد صدیق داسی وکړل چې ددروغو یوه دعوٰی یي دکلکټر صاحب سره واچوله چې عبدالستار دسکینی

([1]) ونصابها لغیرها من الحقوق الخ کنکاح وطلاق الخ رجلان اورجل وامراتان (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۵ ، ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص۸۲۰ ، ط.س. ج۳ ص۳۹۹. ظفیر

([3]) لو وجدته عنینا الخ اجل سنة الخ ویوجل من وقت الخصومة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین ج۲ ص۸۱۸ – ۸۱۹ . ط. س. ج۳ ص۳۹۲). ظفیر

دنان اونقه خبر نه اخلی نوسکینه ته دی دعقد ثانی اجازه ورکول سی کلکټر اجازه ورکړه محمد صدیق ددی دوهمه نکاح وکړه نوپه صورت مذکوره کی نکاح ثانی دسکینه جائز ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت پرسکینه طلاق نه دی واقع اونکاح ثانی ددی صحیح نه ده او مرتکب دفعل مذکور عاصی اوظالم اوفاسق دی مسئله داده چی که واقعی هم خاوند خپلی ښځی ته نان او نفقه نه ورکوله نوددی وجه څخه دزوجینو تفریق نه سی کیدی لکه چی په درمختار کی دی: ولایفرق بینهما بعجزه عنها الخ ولابعدم ایفاء حقها الخ (۱). نو چی کله په واقعی نفقه نه ورکولو سره تفریق نه سی راتلی نو ددروغو په دعوی سره به څنګه وسی. فقط

خلاف دشریعت دانګریزی عدالت فیصله دنکاح په باب کی معتبره نه ده: **سوال**: (۱۱۴۰) لطیف دعوی دحقوق ازواج په دیوانی عدالت کی دائره کړه چی په هغه باندی شاهدان داثبات دنکاح ورکړل اولطیف دمصنف صاحب په مخکی دابیان وکی چی امیر مدعا علیه نمبر ۳ په قرآنکریم لاس کښی ښووی اوقسمیه بیان دی ورکړی چی دده دخور فتح خان واده دمظهر سره نه دی سوی نوزما دعوی دی خارجه سی مصنف صاحب دامیر مدعا علیه نمبر ۳ په قسم کولو باندی دلطیف مدعی خارجه کړه نودا جائزده اوکه نه؟ او دفتح خاتون نکاح ثانی جائز ده اوکه نه؟

جواب: مسئله دشریعت داده چی: البینة علی المدعی والیمین علی من انکر (۲). نو مدعی لطیف چی دوه شاهدان عادلان اوثقه نه لری یا ددوی په شاهدی کی سقم دی نو دمدعی علیها یعنی دفتح خاتون په خلیفه انکار باندی به دمدعی دعوی خارجیدی سی اوکه دا انجلۍ نابالغه ده نودولی قسم کافی دی اوپه صورت دبالغه کیدو په دی کی ددی قسم ضروری دی، ددی دورور په قسم به دمدعی دعوی شرعًا خارجه نه وی او دوهمه نکاح ددی انجلۍ به صحیح نه وی. فقط

دګوزده دعوی یی وکړه نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۱۴۱) زید دعوی کوی چی عمر دخپلی خور رشته زما سره کړیده اوعمر وایي چی مارشته نه ده کړی زید غلطه دعوی کوی، نو شرعا به دوستي منل کیږی اوکه نه؟

جواب: دزید سره که دخپلی دعوی موافق دوه شاهدان شرعی نسته نوقول دعمر معتبردی

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۹۰۳ مطلب فی فسخ النکاح بالعجز عن النفقة او الغیبة ط.س. ج۳ ص۵۹۰. ظفیر

(۴) مشکوة شریف باب الاقضیة والشهادات ص۳۲۲. ظفیر

او وروسته دثبوت دکوزدې څخه هم عمر که مصلحت ونه ګنی دده سره دنکاح کولو او دانجلۍ دپاره دابنه ځای نه وی نودی په نکاح کولو نه سی مجبورولی (۱). فقط

شپږم باب

مسائل او احکام دکفائت

دفاسق سره نکاح بی داجازی دولی صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۴۲) یوه ډمه دیوسړی سره نکاح کولو ته تیاره سوه ددی پلار دا وویل چی داسړی علانیةً په افعالو دفسق کی اخته دی نوددی وجه څخه دده سره په نکاح رضا نه یم اودیو صالح سړی سره نکاح وکړه وروسته بیادی سړی دګناهونو څخه توبه وکښله اوددی ښځی سره یي بی له اذنه ددی دپلار نکاح وکړه که په مخکی حالت کی یعنی که بی دتوبی کولو څخه نکاح سوی وی نو صحیح کیده اوکه نه؟ اواوس چی په وروسته صورت کی نکاح وسوه صحیح ده اوکه نه؟ اوولی که راضی نه وی نوڅه حکم دی؟ دعبارت ددرمختار: ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلاً وهو المختار للفتوٰی (۲) څه مطلب دی؟

جواب: که عدم کفاءت په دی وی چی سړی په افعالو دفسق کی اخته وو نودتوبی کښلو څخه وروسته دنکاح په صحیح کیدو کی څه خبره (۳) نسته، که څه هم ولی نه وی راضی، خوپه مخکی صورت کی به بی درضاء دولی نکاح صحیح نه وی کما هو مفاد عبارة الدر المختار. (۴) فقط

دکمی درجی دښځی نکاح دسید سره بی له اجازته دولی څخه جائز ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۴۳) یوه ډمه دخپل مور اوپلار په رضامندی اوتعلیم سره په ګډا اوسندرو اوزنا کی مبتلاء وه په امداد دسرکار ددوی څخه جلاسوه اودیو پخوانی اشنا سره چی دریلوی ملازم دی خپل ځان سید ښکاره کوی نکاح کول غواړی اودمور اودپلار یي دپخوا څخه داسی اصرار وو چی دده سره نکاح مه کوه مسافر فاسق دی اوزموږ په خاندان کی نیک سړی سته دهغه سره یا دښار دیو بل نیك اوسیدونکی سړی سره نکاح وکړه دابنځه دبل چاسره خوشحاله نه وه مجبوراً دمسلمانانو یوې لویی ډلی په ده توبه وکښه اوددی ښځی

---

(۱) عن النبی ﷺ قال اذاوعد الرجل اخاه ومن ینته ان یفی له فلم یف ای بعذر فلا اثم علیه رواه ابوداود (مشکوٰة شریف باب الوعد ص۴۱۲). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۸ – ۴۰۹، ط.س. ج۳ ص ۵۲. ظفیر

(۳) قال رسول الله ﷺ التائب من الذنب کمن لاذنب له. مشکوٰة باب الاستغفار والتوبة ص ۲۰۲. ظفیر

(۴) وتعتبرفی العرب والعجم دیانة ای تقوی فلیس فاسق کفواً لصالحة اوفاسقة بنت صالح معلنا کان اولا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۴۰ ، ط.س. ج۳ ص ۸۸). ظفیر

سره يي ورته نكاح وکړه دانكاح شرعًا جائزده اوكه په سبب دعدم كفاءت اودعدم رضا دمور اوپلار منعقده سوه؟

جواب: چی کله خاوند شريف دی اوښځه رذيله ده نودعدم كفائت په وجت دبطلان دنكاح حکم به نه سی کيدی ځکه چی دكفائت اعتبار دجانبه دخاوند څخه دی چی دی ترښځی دکمی درجي نه وی که څه هم ښځه دکمی درجی وی (۱) اوزوجين چی کله توبه وکاږی نو په دی حيثيت كفائت هم ثابت سو، په هرحال مذکوره نكاح صحيح ده. في الدرالمختار: الكفاءة معتبرة الخ من جانبه الخ لا تعتبر من جانبها لأن الزوج مستفرش فلا تغيظه دناءة الفراش وهذا عند الكل في الصحيح، وفي الشامي قوله: من جانبه اى يعتبر ان يكون الرجل مكافئاً لها في الاوصاف الآتية بان لا يكون دونها فيها ولا تعتبر من جانبها بان تكون مكافئة له فيها بل يجوز ان تكون دونه فيها (۲) الخ. حاصل داچی نکاح مذکوره چی په رضا دبالغی سويده صحيح ده ځکه چی خاوند وروسته دتوبی څخه فاسق پاته نه سو، اودخاوند منسب اعلى کيدل خوښکاره دی. فقط

دسيده نكاح دنعماني سره جائز ده اوكه نه؟ **سوال**: (۱۱۴۴) يوه هندوستانی سيده بالغه ديو هندوستانی نعمانی اولاد دابوحنيفه سره نكاح وکړه، آيا اولياء دسيدی ته دنكاح د فسخ حق سته؟ آيا اولاد دابوحنيفه رضي الله عنه دحضرت فاطمة رضي الله عنها اودصديق اكبر رضي الله عنه وغيره دپاره كفو دی؟ بعضی خو وايي چی كفودی ځکه چی غير قريش دقريش کفودی او نعمانی خوعجمی دی؟

جواب: قال فی الدرالمختار: العجمي لا يكون كفوا للعربية ولو كان العجمي عالما أو سلطانا وهو الأصح فتح عن الينابيع وادعى في البحر أنه ظاهر الرواية وأقره المصنف ثم ذكر عن النهر ان العالم العجمي كفو للعربية ورجحه الشامي وقال وكيف يصح لاحد ان يقول إن مثل أبي حنيفة أو الحسن البصري وغيرهما ممن ليس بعربي أنه لا يكون كفوا لبنت قرشي جاهل أو لبنت عربي بوال على عقبيه (۳) الخ. خوښکاره ده چی دا اختلاف اوترجيح په صورت دعالم کيدو دعجمی دی صرف دعالم داولاد کيدوپه وجه به دعجمی

---

(۱) الكفاءة معتبرة في ابتداء النكاح للزومه أو لصحته من جانبه أي الرجل لأن الشريفة تأبى أن تكون فراشا للدنيء ولذا لا تعتبر من جانبها لأن الزوج مستفرش فلا تغيظه دناءة الفراش وهذا عند الكل في الصحيح والكفاءة هي حق الولي لا حقها (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۳۵ - ۴۳۲. ط. س. ج۳ ص۸۴). ظفير

(۲) ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص ۴۳۵ ، ۴۳۲. ط.س. ج۳ ص ۸۴. ظفير

(۳) ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص ۴۴۳ و۴۴۴ ، ط.س. ج۳ ص ۹۳. ظفير

كفائت دعربي قريشي سره ثابت نه وي. فقط

معلن فاسق دشريفي ښځې كفو دي اوكه نه؟ او دنابالغي نكاح بغير دولي ځخه جائزده اوكه نه؟ **سوال:** (۱۱۴۵\) يونيم ملا خير غوښتونكي معلن فاسق غل بدكار زكوٰة خور سوالگر ديوصالح مالداره سړي لور هنده يي دكوره لس دولس قوسه ليرى يووړله چې دهغه عمر ديارلس كاله دى دحيض حمل وغيره څه نښې نه لري هلته يي چې بوتله نو بې داجازي او درضاء دولي ځخه يي په پټه ورسره نكاح وكړه اوس دا معلومول دي چې هنده بالغه ده اوكه نه؟ اودولي تړل سوى نكاح صحيح ده اوكه ددغه خير غوښتونكي؟ اوآيا داسې خير غوښتونكي فاسق وغيره دصالحو انجونو كفو كيدى سي اوكه نه؟

جواب: هنده نومي انجلۍ چې دديارلسو كالوده په دى صورت كې نابالغه ده او دنابالغي نكاح بغير دولي ځخه صحيح نه ده نودا نكاح چې كم اجنبي سړى كړيده صحيح نه سوه. كمافي الدرالمختار وهواى الولي شرط صحة نكاح صغير ([1]) الخ. درمختار، اوفاسق كفو دصالح دلور چې صالحه ده نه دى. كمافي الشامي فالفاسق لايكون كفواً لصالحة بنت ([2]) صالح الخ شامي ج۲ ص۳۲۱. فقط

گاډي والا ددم او چو والا كفو دي اوكه نه؟ **سوال:** (۱۱۴٦\) گاډي والا چې دغوايانو ريړۍ چلوى ددم او چو والا كفو كيدى سي اوكه نه؟

جواب: كيدى سي. فقط

دصالح نكاح دفاسق سره صحيح ده اوكه نه؟ **سوال:** (۱۱۴۷) هنده نومي انجلۍ چې صالحه پاكدامنه بالغه ده دزيد سره چې په حيثيت دقوميت خوبرابر دى خوپه لياقت، علم، تهذيب، عزت، ذات، صلاحيت كې په مقابله دهنده كي هيڅ وقعت نه لري اوپه هغه ټولو كارونوكې چې باعث دشرم دي مبتلا دى، كه څه هم دڅه مودى ځخه وروسته ددي عيبونو ځخه زيد صحيح سي نودا نكاح صحيح سوه اوكه نه؟ اودزيد ځخه دڅه زياتي تحقيق ضرورت سته اوكه نه اودزيد موجوده حالاتو ته په كتوسره تفريق نه كول څه حكم لري؟

جواب: په درمختار كې دي: ويفتى في غير الكفو بعدم جوازه اصلاً وهوالمختار للفتوىٰ لفساد الزمان وفي الشامي ان هذا القول المفتىٰ به خاص بغير الكفو الخ ([3]). نوچې كله دمفتى به روايت موافق دانكاح ونه سوه چې كمه هنده بغير درضاء دولي ځخه په غير

([1]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الولي ج۲ ص ۴۰۷ ، ط.س. ج۳ ص ۵۵. ظفير

([2]) ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص ۴۴۱ ، ط.س. ج۳ ص ۸۹. ظفير

([3]) وگورى ردالمحتار اوالدالمختار على هامش ردالمحتار باب الولي ج۲ ص۴۰۸، ط.س. ج۳ ص۵۲. ظفير

كفوكې كړيده نوپه وخت دصحيح كيدو دحالت دخاوند بياهم دانكاح صحيح كيدى نه سى اوپه هرحال كى تفريق دزيد اودهندى ضروري اولازمي دى اودنور زيات تحقيق ضرورت نسته اوتفريق نه كول په داسى حالت كى چى عدم كفاءت په وخت دنكاح ثابت وو معصيت او اعانت على المعصيت دى. فقط

دغير كفو والا سړي دهوكه وكړه او ديوى سيدى سره يي نكاح وكړه، نودا جائز سوه اوكه نه؟

سوال: (۱۱۴۸/) زيد غيركفو اوغيرصحيح النسب خپل ځان شريف النسب وښووى دبكر چى شريف اوسيد دى دهغه دبالغى لور سره يې په وكالت دغير ولى خپله نكاح وكړه نو په دى صورت كى نكاح فسخ كيدى سى اوكه نه؟

جواب: **په** درمختار كى دى: ويفتى فى غير الكفو بعدم جوازه اصلاً وهو المختار لفساد الزمان الخ (۱). ددى حاصل دادى چى كه ښځه بالغه خپله نكاح په غير كفوكى بى له اجازى اودرضاء دولى څخه وكړي نونكاح نه منعقده كيږي نوچى كله دانكاح صحيح نه ده نودفسخ ضرورت نسته. فقط

دصالح سړي دلور نكاح دفاسق سړي سره صحيح ده اوكه نه؟ **سوال**: (۱۱۴۹/) ديو نايي زوى چى څه روپى يي جمع كړيدى او بنجاريتوب يي شروع كى اوس دى په بنجاريانو كى شماريږي دده بالغى لور بغير داجازى دمور اوپلار څخه ديو خاندانى بنجاري دزوى سره نكاح كړيده دنكاح كيدو څخه وروسته دى سړي يوخط دانجلۍ پلار ته وليكى چى دا كار زما څخه په ناپوهتيا سره سويدى، ته مامعاف كړه اوما دنكاح درخواست ځكه تاته ونه كى چى كيدى سى زما ماما ناراضه سى ځكه چى دده دقريبانو په خيال كى دانجلۍ پلار كم اصل دى څو ورځى وروسته دانجلۍ مور انجلۍ راوستله، څوورځى وروسته هلك دانجلۍ پلار ته درخواست وكى چى انجلۍ را وليږه، دانجلۍ پلا وويل چى يوكور تلاش كړه دكور سامان په دى كى كښيږده نوموږ به انجلۍ درولیږو ده كور په كرايه واخيستى اوڅه قدر سامان يي هم جمع كى ددى څخه وروسته دانجلۍ پلار انجلۍ په بل ځاى كى په نكاح وركړه اومفتى صاحب فتوٰى وركړه چى په سبب دكفو ادا كولو دانجلۍ مذكوره سړي فاسق سو، اوفاسق سړي ددى ښځى كفو نه سى كيدى ددى وجه اول نكاح منعقده نه سوه، اووطى په شان دزناده ددى عده هم نسته اوس سوال دادى چى داهلك ددى انجلۍ كفودى اوكه نه؟ په سبب داغواء دانجلۍ كه سړي فاسق سو نودا انجلۍ په سبب دتيښتي فاسقه سوه اوكه نه؟ دانجلۍ مور ددى كورته په تللو او انجلۍ

(۱) وګورى ردالمحتار او الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الولى ج۲ ص۴۰۸، ط.س. ج۳ ص۵۲. ظفير

دخپل ځان سره راوستل اودهلك خط ليكل او دانجلۍ دپلار داليكل چې يوكور تياركړه رضاء دولي ده اوكه نه؟ ددې دواړو بغيردولي څخه نكاح منعقده كيږي اوكه نه؟ آيانكاح منعقده نه سوه دانجلۍ پلار ته دنكاح دفسخ اختيار سته؟

جواب: قال في الدرالمختار فليس بفاسق كفوا لصالحة اوفاسقة بنت صالح الخ (۱) وفيه ايضا ويفتى في غير الكفو بعدم جوازه اصلاً الخ (۲). دمخكې عبارت څخه معلومه سوه چې فاسق كفو دصالحه دفاسقې بنت صالح نه دی اوددوهم عبارت څخه معلومه سوه چې بالغه كه خپله نكاح په غير كفوكې وكړي نودا نكاح باطله ده دولي پراجازې موقوفه نه ده نوپه صورت مسئوله كې چې خاوند په سبب داغواء كولو اودتښتولو دښځې فاسق سو نوپه سبب ددوهم روايت ددرمختار چې دامفتٰى به دی نكاح ددې ښځې سره صحيح نه ده كه څه هم ښځه هم فاسقه سوې وي په وجه دفرار مع الرجل الاجنبي چې كله پلار ددې صالح وي نوكه څه هم چې دبنجاريتوب دكسب په وجه دواړه برابر اوهم كفوي خو دفسق دوجه څخه داسې ددې ښځې كفونه دی پاته سوی كه څه هم دابښځه هم فاسقه سوه كله چې پلار ددې صالح وي كمامر دا امور دلالت پررضاء دی خوچې كله دمخكې څخه نكاح منعقده نه ده نودارضاء دانكاح نه سي صحيح كولي اونه منعقده كيږي موافق دقول مفتٰى به. فقط

<u>دحرام هلک سره دشريفې ښځې نكاح جائزده اوكه نه؟</u> سوال: (۱۱۵۰) ديوې انجلۍ او دهلك نكاح په وخت دنابالغتيا كې وسوه دانجلۍ دمور په اجازه اوس دادواړه بالغ دي انجلۍ ته په بالغيدو داخبره معلومه سوه چې زما خاوند اودده پلار دواړه دبې نكاح ښځې څخه دي نوددې وجه څخه انجلۍ په نكاح راضي نه ده نوفسخ كولي سي اوكه نه؟ نودا نكاح منعقده سوه اوكه نه؟ اوپلار نيكه دانجلۍ مړه وه.

جواب: دانكاح منعقده نه سوه په درمختار كې دي: واذا كان المزوج غيرهما اي غير الاب وابيه ولو الام الخ لايصح النكاح من غير كفو الخ (۳). فقط

<u>بالغه كونډه په غير كفو كې نكاح كولي سي اوكه نه؟</u> سوال: (۱۱۵۱) كونډه ښځه خپله نكاح په غير كفوي كې بې اجازې دولي كولي سي اوكه نه؟

جواب: كونډه ښځه خپله نكاح په غير كفو كې بې درضا دولي نه سي كولي كه ويې كړي نوموافق دروايت دمفتى بها دانكاح به صحيح نه وي كمافي الدرالمختار: ويفتى في

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۴۰ ، ۴۴۱ ، ط.س. ج۳ ص۸۹. ظفير
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولي ج۲ ص ۴۰۹ ، ط.س. ج۳ ص ۵۶، ظفير
(۳) ايضا ج۲ ص۴۱۹. ط.س. ج۳ ص ۲۷. ظفير

غیر الکفو بعدم جوازها اصلا وهوالمختار للفتوٰی ([1]) (خودا دی واضحه وی چی دغیر کفو څخه مراد دلته دادی چی هلك دکمتر خاندان وی اوکه هلك ترنجئی دلوړ خاندان وی. ظفیر)

سید خپله لور په غیر کفو کی ورکولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۵۲) که سید خپله لور په خپله خوښه په غیر کفوکی کول غواړی نوشرعا منع دی اوکه نه؟

جواب: پلار نیکه که دبالغه نکاح په غیر کفوکی وکړی نوصحیح ده ([2]) اودبالغ نکاح په رضاء دلور صحیح ده. فقط

بالغی په کفوکی واده وکی اوس دهلک دفاسق کیدو په وجه نارضا ده نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۵۳) یوی بالغی دخپل قوم دسړی سره بی له اجازته دپلار اودنورو قریبانو بل وطن ته ولاړه اونکاح یي وکړه څوورځی وروسته وطن ته بیرته راغی اوس بالغه په وجه دفسخ ددی سړی نارضا ده، آیا لور دصالح دفاسق کفوده اوکه نه اوولی لره په وجه ددفع دعار فسخ دنکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: په شامی کی دی: والحاصل : أن المفهوم من کلامهم اعتبار صلاح الکل (الی ان قال) فعلی هذا فالفاسق لا یکون کفوا لصالحة بنت صالح بل یکون کفوا لفاسقة بنت فاسق ، وکذا لفاسقة بنت صالح کما نقله في الیعقوبیة ، فلیس لأبیها حق الاعتراض ([3]) الخ. ددی څخه معلومه سوه چی کمه ښځه په خپله فاسقه وی داکه څه هم دصالح لوروی داکفو دفاسق ده، ددی وجه څخه مذکوره نکاح چی دفاسقه بنت صالح دفاسق سره وسوه نودا صحیح ده. فقط

دسید دبالغی لور نکاح بی درضاء دولی په غیر کفو کی صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۵۴) دبالغی سیده صحیحة النسب نکاح دیوبل سړی چی غیر سید اوغیر عالم دی بی درضاء دولی څخه صحیح ده اوکه نه؟

جواب: بالغه سیده که په غیر کفو کی خپله نکاح بی درضاء دولی څخه وکړی نوبی شکه موافق دروایت دمفتی بها ددی نکاح صحیح نه ده ([4]) اوکه په رضاء دولی یي کړی وی

([1]) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۸ ، ط.س. ج۲ ص ۵۲. ظفیر

([2]) وللولی الخ نکاح الصغیر والصغیرة الخ ولزم النکاح ولو بغبن فاحش الخ او زوجها بغیر کفوء ان کان الولی المزوج بنفسه بغبن ابا اوجدا الخ لم یعرف منهما الاختیار (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۱۷ – ۴۱۸ ، ط.س. ج۳ ص ۲۵). ظفیر

([3]) ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۴۱ ، ط.س. ج۳ ص ۸۹. ظفیر

([4]) ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه الا وهوالمختار للفتوٰی لفساد الزمان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۸ ، ط.س. ج۲ ص۵۲). ظفیر

یا ددی ولی نه وی یايي په کفو کی نکاح کړیده نوصحیح ده، کمافی الشامی: واما اذا لم یکن لها ولی فهو صحیح نافذ مطلقا اتفاقا کما یاتی الخ (۱). اوواضحه دی وی چی فقهاؤ تصریح کړیده په باب الکفاءة کی چی قریش په خپل مینځ کي دیوبل اکفاء نوشیخ صدیقي اوفاروقي اوعثماني وغیره چي څومره قریشي دی ټول دساداتو هم کفودی (۲)،

دسید لورده دیوهلک سره یی نکاح وکړه چی ځان ته یی شیخ وایه اوس معلومه سوه چی دی جولا دی نوځه حکم دی؟ **سوال**: (۱۱۵۵) یوی بالغی ښځی خپله نکاح دیوسړی سره وکړه مذکوره ښځه دسید لورده اوسړی مخکی خپل ځان شیخ ښکاره کړی وو دنکاح کیدو او خلوت صحیحه څخه وروسته معلومه سوه چی په ذات جولا دی اودا نکاح دښځی دپلار په غیبوبت کی وسوه نوآیا دانکاح صحیح سوه اوکه نه په صورت دصحت کی ښځی یا ددی پلار ته دفسخ کولو اختیار سته اوکه نه؟

جواب: مذکوره نکاح چی کم په غیر کفوکی سویده دمفتٰی به روایت مطابق صحیح نه بلکه باطله اوناجائز ده په درمختار کی دی: ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلاً وهو مختار للفتوٰی (۳). فقط

دسید اودشیخ لور دنوی مسلمان کانسته سره جائزده اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۵۶) یوسړی په قوم کانسته هندو وو دی مسلمان سو، دلمونځ روژی پایبند دی، دی دشیخ دسید دلور کفودی اوکه نه؟ اوچی کم خلک بی نمازه دی هغوی دانوی مسلمان نه خوښوی په داسی حالت کی څه کول پکاردی؟

جواب: دشیخ او دسید لور کفو ددی نوی مسلمان نه ده (۴) خوکه یونوی مسلمانه یادبل قوم دلورسره یي نکاح کیدی سی که بی نمازه وی نودی پوهول اولمونځ گذاره کول پکار دی نونکاح به صحیح سی ځکه چی دی مسلمان دی. فقط

دعجمی تعریف اودعربی النسل ښځی نکاح دلوهار ترکاڼ او دنداف سره صحیح ده اوکه نه؟

سوال: (۱۱۵۷) زید وایي چی که یوه سیده یا افغانی یادبل اعلی قوم ښځه دیوادنٔی

(۱) ردالمحتار باب الولی تحت قوله بعدم جوازه ج۲ ص۴۰۹، وروسته ددی وجه درج ده: لان وجه عدم الصحة علی هذا الروایة دفع الضرر عن الاولیاء اما هی فقد رضیت باسقاط حقها فتح (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۹، ط.س. ج۳ ص۵۷). ظفیر

(۲) تعتبر الکفاءة للزوم النکاح نسبا فقریش بعضهم اکفاء بعض (درمختار) والخلفاء الاربعة کلهم من قریش (رد المحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۷. ۴۳۸، ط.س. ج۳ ص۸۲). ظفیر

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۸ – ۴۹، ط.س. ج۳ ص۵۲. ظفیر

(۴) من اسلم بنفسه ولیس له اب فی الاسلام لایکون کفوا لمن له اب واحد فی الاسلام کذافی فتاوٰی قاضی خان (عالمگیریه باب خامس فی الکفاءة ج۲ ص۱۵، ج۱ ص۲۹۰ ماجدیه). ظفیر

قوم دمسلمان، لوهار، ترکاڼ، نندا ف سره مثلاً نکاح وکړي بي درضاء دولي نوبي کراهته صحيح ده ځکه چې عجميانو خپل ځان ضائع کړيدي داويل صحيح دي اوکه نه؟ اوکفو به په کمو شيانوکي په پنجاب، سنده، هند، اوبنګال وغيره کي معتبروي اوعجمي چاته وايي زيد دادليل نيسي چي دسيدزاده ګی نکاح دغير قوم سره منع کول دشيعه مذهب دی، دعيني ج۲ ص۱۰۲ عبارت پيش کوي: وفي البسيط الى ان نکاح العلويات تمتنع على غير هم مع التراضي قال السروجي وهی قولان باطلان الخ ددی عبارت څه مطلب دی اوددی څه جواب دی؟

جواب: دعجمي تعريف په ردالمحتار کی دادي: قوله واما في العجم المراد بهم من لن ينتسب الى احدى قبائل العرب (۱) الخ. نوچی کم سړی منسوب الی العرب نه دي نوهغه عجمي دی، اوپه درمختارکي دي: العجمي لايكون كفوا للعربية الخ (۲) اودعيني جواب دادی چی نکاح دسادات علوی دغير علويانو سره بالكل منع ده اومذهب داهل السنت والجماعت دادی چی دوی اول دعلوياتو نکاح دغير علويانو سره نه منع کوی مطلقا بلکی دقريش غير علوی نکاح دسيده علويه سره صحيح ده کمافي الدرالمختار: فقريش بعضهم اکفاء بعض (۳). اودوهم دعجميانو سره هم دعلوياتو نکاح حرامه نه ده بلکی که ولی اودا ښځه راضي وی نونکاح منعقد کيږي، فاين هذا من ذالك.

__په غير کفو کي واده دولي په رضا صحيح دي؟__ **سوال**: (۱۱۵۸) يومسلمان چی دکم قوم څخه هم وی دی په بل قوم کی دخپل زوی اودلور نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دنابالغي پلار داسی کولی سی اوکه انجلۍ بالغه وی اودا راضي وی په غير کفو کی په واده کولو سره اوددی پلار اوولی هم راضي وی نوبياهم صحيح دی کذافي الدر المختار وغيره (۴). فقط

__ولد الزنا دصحيح النسب هم کفو نه دي__: **سوال**: (۱۱۵۹) زيد ولد الزنادی دده قريب دده سره په نکاح کولو شرميږي زيد مذکور کفو کيدی سی اوکه نه؟

---

(۱) ردالمحتار باب الكفاءة ص ۴۳۹ ج۲ ، ط.س. ج۳ ص ۸۷. ظفير

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۴۳ ، ط. س. ج۳ ص۹۲. ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۳۸ ، ط. س. ج۳ ص۸۶. ظفير

(۴) واذا زوجت نفسها من غير كفو ورضي به احد الاولياء لم يكن لهذا الولي ولا لمن مثله او دونه في الولاية حق الفسخ الخ وكذا اذا زوجها احد الاوليآء برضاها كذا في المحيط (عالمگيري باب خامس باب الاكفاء والكفاءة ج۲ ص۱۷ طبع ماجديه ج۱ ص۲۹۳) اذا زوجها من رجل عرفه غير كفو فعند ابي حنيفة يجوز لان الاب كامل الشفقة واقر الراى فالظاهر انه تامل غاية التامل ووجد غير الكفو اصلح من الكفو كذا في المحيط (ايضا ج۲ ص۱۲، طبع ماجديه ج۱ ص۲۹۱). ظفير

جواب: ولد الزنا کفو دولد الحلال اودثابت النسب نه سی کیدی خوکه پلار دخپلی نابالغی لور نکاح په غیر کفوکی وکړی نونکاح به صحیح وی یاپه خپله بالغه انجلۍ دولی په اجازه که خپله نکاح په غیر کفو کی وکړی نوبیا هم نکاح صحیح کیږی (۱).

دنابالغی انجلۍ نکاح که په غیر کفو کی وسی نوجائز ده: **سوال**: (۱۱۲۰) زید (چی شیخ فاروقی دی) دخپلی نابالغی لور نکاح دعمر (چی ددری پشتونو راهیسی مسلمان دی) سره کړیده داهلك ددی منکوحی انجلۍ کفو دی اوکه نه دی انجلۍ ته دنکاح دفسخ کولو اختیار په بالغه کیدو سره سته اوکه نه؟

جواب: داهلك دزید دلور کفو نه دی خوپلار که دخپلی نابالغی لور نکاح دغیرکفو سره وکړی نوصحیح (۲) ده اونابالغی ته دبالغیدو څخه وروسته اختیار دفسخ ددی نکاح نسته. کذا فی الدرالمختار والشامی (۳). فقط

سید اوشیخ هم کفودی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۲۱) دغیر کفو سړی سره دښځی نکاح بی اجازته دپلار کیدی سی اوکه نه؟ ښځه کونده وی اوکه پیغله، ښځه سیده وی اوسړی شیخ داغیر کفودی اوکه نه؟

جواب: سید اوشیخ دیوبل کفو دی غیر کفونه دی لکه چی په کتابونو دفقه کی ددی تصریح سته اوسید اوشیخ چی صدیقی وی اوکه فاروقی اوکه عثمانی ټول قریشی (۴) دی نوکه ښځه سیده بالغه باکره وی اوکه ثیبه دشیخ خاوند سره په خپله رضا نکاح وکړی نودا نکاح صحیح ده پلار دانه سی ماتولی کمافی الدرالمختار: فنفذ نکاح حرة مکلفة بلارضاء ولی الخ (۵). فقط

سړی که په غیر کفوکی نکاح وکړه نوصحیح ده: **سوال**: (۱۱۲۲) زید په غیر کفو کی سل کاله وسوه چی نکاح کړیده اولاد او داولاد اولادونه کیدل اوپه خپل مینځ کی یي نکاح

---

(۱) قوله بعدم جوازه الخ وهذا اذا کان ولی ولم یرض به قبل العقد فلا یفید الرضا بعده واما اذا لم یکن لها ولی فهو صحیح نافذ مطلقا اتفاقا (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۹ ، ط.س. ج۳ ص۵۷). ظفیر

(۲) ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا (درمختار) هذه روایة الحسن عند ابی حنیفة وهذا اذا کان لها ولی لم یرض به قبل العتق الخ فلا بد حینئذ لصحة العقد من رضاه صریحا (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۹، ط. س. ج۳ ص۵۲). ظفیر

(۳) لوفعل الاب اوالجد عند عدم الاب لایکون للصغیر والصغیرة حق الفسخ بعد البلوغ (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۰). ظفیر

(۴) فقریش بعضهم اکفاء لبعض الخ والعرب بعضهم اکفاء لبعض الانصاري والمهاجري فیه سوآء کذافی فتاوٰی قاضی خان (عالمگیری مصطفائي الباب الخامس فی الاکفاء ج۲ ص۱۵ طبع ماجدیه ج۱ ص۲۹۰). ظفیر

(۵) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۷. ظفیر

او ودونه کول څوك غير په اولاد کی پاته نه سو اوس سل کاله وروسته يوسړی دزيد دقوم دزيد په خاندان کی چی دهغه ښځی څخه دی چی دهغه نکاح دسل کاله راهيسی سويده اودا ښځه دغير کفو نه وه نکاح کوی جائزده اوکه نه؟ اووالدين يا يوولی ته حق دفسخ دنکاح په وجه دغيره کفو کيدو سته اوکه نه؟

جواب: دزيد په غير کفو کی په نکاح کولو سره دزيد داولاد په نسب کی څه فرق نه راځی ځکه چی نسب دپلار څخه ثابتيږی نوکه دزيد په اولاد کی يوه انجلۍ بالغه خپله نکاح بغير درضاء داولياؤ څخه په غيرکفوکی وکړی نودابه صحيح نه وی. کمافی الدرالمختار ويفتی فی غير الكفو بعدم جوازه اصلاً وهو المختار للفتوٰی (۱) الخ. اوکه يوبالغ هلك دزيد په اولاد کی بغير درضاء دولی خپل نکاح په غير کفوکی وکړی نودا صحيح ده اوولی دانه سی فسخ کولی ځکه چی دکفاءت اعتبار په دی کی نسته چی يوشريف سړی دکم نسب والا ښځی سره نکاح وکړی ځکه چی په دی کی ښځی ته څه عار نسته (۲) او دسړی اولاد چی کم ددی ښځی څخه وی نودا به دپلار په نسب وی. فقط

کونډه سيده دغير قريشي سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۲۳) يوه کونډه سيده ديوغير قريشی سره چی نه خو عالم دی اونه پښتون نکاح کول غواړی نوجائزدی اوکه نه؟ که نکاح وسوه نوداسی نکاح شرعا ماتول لازمی دی اوکه نه؟ اوآيا دانکاح قابل دفسخ اودا سړی قابل دتعزير دی اوکه نه اوکه تعزير سته نوڅه دی؟

جواب: که بالغه ښځه خپله نکاح په خپلی رضاء سره په کفوکی وکړی نودا مطلقا صحيح ده اوکه په غيرکفوکی وکړی اوددی ولی موجودوی نودی راضی نه وی نودانکاح دمفتی به مذهب په بناء صحيح نه ده اوکه ددی څوك ولی نسته ياوی خوراضی وی نومذکوره نکاح صحيح ده اوغير قريشی سړی دسيدی ښځی کفونه دی: قال فی الدرالمختار ويفتی فی غير الكفو بعدم جوازه اصلا وهو المختار للفتوی (۳) الخ قال فی الشامی وهذا اذا كان لها ولی ولم يرض به قبل العقد فلا يفيد الرضا بعده بحر واما اذا لم يكن لها ولی فهو صحيح نافذ مطلقا اتفاقا الخ (۴) ج۲ ص۲۹۷ شامی. اوچی په کم صورت کی دعدم جواز دنکاح فتوٰی ده نوپه دی کی په مينځ دزوجينو کی دی تفريق وسي او څه

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۸ ، ط. س. ج۳ ص۵۲. ظفير

(۲) الكفائة معتبرة الخ من جانبه الخ لاتعتبر من جانبها لان الزوج مستفرش فلا تغيظه دناءة الفراش وهذا عند الكل فی الصحيح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۳۵. ط.س. ج۳ ص۸۴). ظفير

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۸ ، ط.س. ج۳ ص۵۲. ظفير

(۴) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۹ ، ط. س. ج۳ ص۵۷. ظفير

تعزیر شرعًا په دی کی نسته. فقط

پښتون په دهوکه دسید دلور سره نکاح وکړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۲۴) یوپښتون خپل قومیت پټ کی اودیوی سیدی کره یي مرکه ولیږله، نونکاح په دی بناء وسوه چی که ته شیخ یي نونکاح دی وسی، نوپه دی صورت کی نکاح صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح سویده خوپه وجه ددهوکه ورکولو ښځه اوددی اولیآؤ ته دنکاح دفسخ کولو اختیار سته ([1]). فقط

دولی درضا څخه بغیر بالغی په غیر کفوکی نکاح وکړه نوصحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۲۵) یوی بالغی ثیبی ښځی په غیر کفو کی نکاح کول غوښتل ددی په اولیاؤ کی په دی کی ماسوا ددی دترور (عمه) څخه علاوه بل څوك نه وو هغه مزاحم سوه دانګریز حاکم وخت په حکم دانکاح وسوه ترور په حیثیت دولی دفسخ دنکاح دعویٰ وکړه نودترور په دعویٰ نکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟ که نسی کیدی نوهغه کم ولی دی چی هغه ته ددی دعویٰ حق سته اوترور په ذوی الارحام کی ده اوکه په عصباتوکی؟ امام طحاوی په باب النکاح بغیر ولی عصبه چی کم باب ایښی دی په دی کی دعصبه دقید څه فائده ده؟ آیاپه دی کی ترآخر ولی عصبه پوری بحث دی اوکه دعام ولی څخه، په فتاویٰ سراجیه کی دی: امراة تزوجت من غیر کفو فللولی ان یعترض ویرفع الی القاضی حتی یفسخ وان لم یکن الولی ذارحم محرم کابن العم ([2])، ددی څه معنیٰ ده اوابن عم بنفسه نه دی؟

جواب: دفقه په کتابونو کی تصریح ده چی دنکاح ولی عصبه دی، اوکه عصبه نه وی نو بیا ذوی الفروض اوذوی الارحام ته ولایت حاصل دی نوچی کله ماسوا دترور څخه بل څوك ولی ددی ښځی دلته نسته نوولی په دی حالت کی ترورده چی په ذوی الارحام کی ([3]) ده اوپه کتب دفقه کی داهم تصریح ده چی په غیر کفوکی نکاح دبالغی بی اجازته او رضاء دولی نه ده صحیح نوچی کله ترور په دی نکاح راضی نه ده نودا نکاح په فتویٰ دمتاخرو فقهاؤ صحیح نه ده اودامام طحاوی دعبارت مطلب دادی چی ولی په اصل کی عصبه دی اوکه عصبه نه وی نوبیا دنورو فقهاؤ دتصریح مطابق ذوی الفروض اوذوی الارحام ولی کیږی چی دهغه تفصیل اوترتیب په کتابونو دفقه کی سته اوپه فتاویٰ

([1]) ولو انتسب الزوج لها نسبا غیر نسبه فان ظهر دونه وهو لیس بکفو فحق الفسخ ثابت للکل وان کان کفوًا فحق الفسخ لها (عالمگیری باب خامس فی الاکفاء ج۲ ص۱۷ طبع ماجدیه ج۱ ص۲۹۳). ظفیر

([2]) فتاویٰ سراجیه. ظفیر

([3]) فان لم یکن عصبة فالولایة للام الخ ثم لذوی الارحام ثم للسلطان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۹ ، ط.س. ج۳ ص۷۸). ظفیر

سراجیه کی چی کم اعتراض دولی حکم لیکلی دی نودا اصل مذهب داحنافو دی خوبیا متاخرین احناف دمذکوری نکاح دبطلان فتویٰ ورکوی یعنی په غیرکفوکی دبالغی نکاح بی اجازته دولی باطلیږی دولی دفسخ کولو ضرورت نسته داټول تفصیل په درمختار اوپه ردالمحتار کی دی (۱). فقط

دیوی پښتنی ښځی نکاح دشیخ دزوی سره جائز ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۲۶) یوه کونډه ښځه هنده په غیر کفوکی نکاح وکړه یعنی ښځه پښتنه ده اوخاوند شیخ زاده دی او دښځی میریزي اکا په دی معترض دی نودا نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: مسئله داده چی کونډه بالغه ښځه خپله نکاح په غیر کفو کی بی اجازته دولی ثخه وکړی اوولی په دی نکاح راضی نه وی نودا نکاح نه کیږی اوفتویٰ په دی ده او مخکی دامسئله لیکل سوی وه خواوس په توضیح سره دامعلومه سوه چی ښځه پښتنه ده اوخاوند دشیخ زوی دی یعني قریشي دی کم چي دښځي ترقوم افضل دی که صورت واقعي همداسي وي نونکاح صحیح سوه ځکه چي کفاءت دخاوند دطرفه معتبردی چی خاوند دښځی ثخه کمتر نه وی اودښځی دطرفه معتبر نه دی یعنی که ښځه دکمی درجی وی اوخاوند په اعتبار دنسب داعلی درجی وی ځکه چی په دی کی شرعًا اوعرفًا عار نسته. قال فی الدرالمختار الکفاءة معتبرة الخ من جانبه ای الرجل لان الشریفة تابی ان تکون فراشا للدني ولذا لا تعتبر من جانبها لان الزوج مستفرش فلا تغیظه دناءة الفراش وهذا عند الکل في الصحیح الخ (۲). فقط

دیوي خانداني مسلماني انجلۍ نکاح دیو نوی مسلمان سره صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۶۷) دیوی کوچنی انجلۍ چی دهغې پلار نیکه مسلمانان وه ددی نکاح ددی ماما، حال دادی چی ددی پلار ژوندی دی اوپه څه فاصله لیري اوسیدی، دیونوی مسلمان سړی سره، چی دده پلار اونیکه غیر مسلم وو، وکړه، که ددی پلار پردی عقد اعتراض وکړی نوشرعًا به دا عقد موثر کیدی سی اوکه نه؟

جواب: چی دانکاح په غیر کفو کی سویده بی داجازی دولی اقرب څخه یعنی دپلار څخه نو دا صحیح نه ده (۳) (او ددی په رد کولو سره دانکاح نه صحیح کیږی. ظفیر).

---

(۱) ویفتی فی غیر الکفوء بعدم جوازه اصلا وهو المختار للفتویٰ لفساد الزمان (ایضا ج۲ ص ۴۰۸ – ۴۰۹، ط. س. ج۳ ص۵۲). ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۵ – ۴۳۲ ، ط.س. ج۳ ص۸۴. ظفیر

(۳) من اسلم بنفسه ولیس له اب فی الاسلام لایکون کفوا لمن له اب واحد فی الاسلام کذا فی فتاوی قاضی خان (عالمگیری باب خامس فی الاکفاء ج۲ ص۱۵ طبع ماجدیه ج۱ ص۲۹۰). ظفیر

په کفوکي نکاح صحیح ده په مهر کي په کمی سره فرق نه راځي: **سوال**: (۱۱۲۸) زید دهنده ثیبې دبالغی کونډې سره بغیر داجازې اودرضا دولی څخه نکاح وکړه اولس درهم مهر مقرر سو زید وطی هم کړیدی اوپه خپله ددې اقرار هم کوی نونکاح منعقده سوه اوکه نه؟ اوولی ته دفسخ اختیار سته اوکه نه؟ زید دمهر مثل دپوره کولو څخه انکارنه کوی اونه په فسخ راضی دی اونکاح په کفوکي سویده اومهر مثل زیات دی؟

جواب: چي کله نکاح په کفوکي وسوه نوولی ته په صورت داتمام دمهرمثل دفسخ اختیار نسته اونکاح صحیح سوه. کما فی الشامی قوله ویفتی في غیر الکفو بعدم جوازه اصلا الخ قید بذلك لئلا یتوهم عوده إلی قوله فنفذ نکاح حرة إلخ وللاحتراز عما لو تزوجت بدون مهر المثل فقد علمت أن للولي الاعتراض أیضا والظاهر أنه لا خلاف في صحة العقد وأن هذا القول المفتی به خاص بغیر الکفو الخ ([1]). فقط

ولد الزنا هلک اوصحیح النسب انجلۍ هم کفو دي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۲۹) یوهلك ولد الزنا دی اوانجلۍ دحلالي نطفي څخه پیداده نودا دواړه کفودی اوکه نه؟

جواب: دوی کفونه دی ([2]). فقط

دګلکار واده دترکاڼ سره جائزدي: **سوال**: (۱۱۷۰) زید دګلکاری کسب کوی اودعمر دخاندان مشرانو په اوقریبانو به دترکانۍ کسب کوی خو عمر دعطار پردوکان ناست وی زید دعمر ټول حالت ولیدی اودخپلی خور نکاح یي دعمر سره وکړه دزید خور دعمر سره یوه میاشت دده په کورکی هم اوسیده، وروسته دیوې میاشتی څخه زید خور خپل کور ته بوتله اوس زید وایي چی دانکاح جائزنه ده دانکاح جائز سوه اوکه نه؟ اوعمر چی دزید دخور سره ډیری ورځی هم بستری وکړه نوداجائز سوه اوکه نه؟

جواب: دعمر نکاح دزید دخورسره جائز سویده اوهم بستری وغیره ټول جائزدی اودزید انکار اوس شرعًا معتبر نه دی ([3]). فقط

دمسلماني انجلۍ نکاح په غلطی سره په غیر خاندان کی وسوه: **سوال**: (۱۱۷۱) دیوی مسلمانی نابالغی انجلۍ نکاح دیو بی شرم قوم چی پابیند داحکامو داسلام نه دی په غلطی سره وارثانو وکړه بیا وروسته معلومه سوه چی ددوی داسلام سره څه تعلق نسته

([1]) وګوری ردالمحتار باب الولي ج۲ ص ۴۰۸ ، ط.س. ج۳ ص ۵۷. ظفیر

([2]) وتعتبر الکفاءة نسبا وحریة واسلاما او دیانة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۷ ، ط.س. ج۳ ص۸۶)، ظفیر

([3]) وافاد کما فی البحر انه لایلزم اتحادهما فی الحرفة بل التقارب کاف فالحائك کفو لحجام والدباغ کفو لکناس والصفار کفو لحداد والعطار کفو لبزاز قال الطبرانی وعلیه الفتوٰی (ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص ۴۴۲ ، ط.س. ج۳ ص۹۰). ظفیر

ددى وجه څخه انجلۍ ددوى كره ابادېدل نه غواړى اونه يې وارث ليږل غواړى نودانكاح صحيح سوه اوكه نه؟

جواب: كه داسړى چې دچاسره نكاح سويده مسلمان كلمه ګو وى كه څه هم فاسق وى او دين دار نه وى نونكاح صحيح سوه (۱)، اوبغير دخاوند دطلاقه دانكاح نه سى فسخ كيدى، اوكه كافر وو او دعوىٰ داسلام يې نه كوله او دكلمه دتوحيد څخه منكر وه نودا نكاح نه ده سوى. فقط

هلک نسب غلط وښووى او واده يې وکى نواوس نكاح فسخ كيدى سى اوكه نه؟ سوال: (۱۱۷۲) يوسړى خپل نسب غلط وښووى اوديو شريف خاندان دانجلۍ سره يې ددى دپلار په اجازه نكاح وكړه، حال دادى چې انجلۍ بالغه ده اوددى څخه اجازه طلب نه سوه اوس دانجلۍ دبيولو څخه مخكى سړى مجهول النسب ښكاره سو نو په دى صورت كى ابطال يا دفسخ دنكاح جواز دانجلۍ ولي يا انجلۍ ته سته اوكه نه؟

جواب: ولي اوښځى ته دنكاح دباقى ساتلو اودفسخ كولو اختيار سته. كمافى الشامى نقلا عن البحر عن الظهيرية لوانتسب الزوج لها نسبًا غير نسبه فان ظهر دونه وهوليس بكفو فحق الفسخ ثابت للكل وان كان كفواً فحق الفسخ لها دون الاولياء ج۲ ص۳۴۴. اودباب العنين په اٰخر كى صاحب دشامى ليكلى دى چې كم سړى دهوكه وكړه اوخپل نسب يې غلط وښووى اونكاح يې وكړه وروسته كه دى غيركفو ظاهر سو نوولي اوښځى دواړو ته دفسخ اختيار سته بناء پرحق دكفائت (۲) اوكه كفو دى خوچې كم نسب يې بيان كړى وو هغه غلط وختى نوپه دى صورت كى صرف ښځى ته دفسخ دنكاح اختيار سته ځكه چې ددهوكى اثر به پردى پريوزى. كما قال لكن ظهر الآن ان ثبوت حق الفسخ لها للتعزير لا لعدم الكفاءة بدليل انه لوظهر كفواً يثبت لها حق الفسخ لانه غيرها الخ (۳).

هاشمى اوبنى فاطمه كفو دى اوكه نه؟ سوال: (۱۱۷۳) قريشى هاشمى اوسادات بنو فاطمه كفودى اوكه نه؟ اودنورو قريش عربو په دوى كى نكاح صحيح ده اوكه نه؟

جواب: قريشى هاشمى اوسادات بنو فاطمه كفودى اوقريش دنورو عربو ماسوا دقريش څخه كفو نه دى په درمختار كى دى: فقريش بعضهم اكفاء بعض قال فى الشامى اشاربه

---

(۱) لو زوجوها برضاها ولم يعلموا بعدم الكفاءة ثم اعلموا لا خيار لاحد (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۳۷ ، ط.س. ج۳ ص۸۵). ظفير

(۲) لو تزوجة على انه حر اوسنى اوقادر على المهر والنفقة فبان بخلافه اوعلى انه فلان بن فلان فاذا هو لقيط او ابن زنا لها الخيار (ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۳۲ ، ط.س. ج۳ ص۸۵). ظفير

(۳) ردالمحتار باب العنين وغيره قبيل باب العدة ج۲ ص۸۲۳ ، ط.س. ج۳ ص۵۰۲. ظفير

اشار به الی انه لا تفاضل فیما بینهم من الهاشمي والنوفلي والتیمي والعدوي وغیرهم ، ولهذا زوج علي وهو هاشمي أم کلثوم بنت فاطمة لعمر وهوعدوي، قهستاني فلو تزوجت هاشمیة قرشیا غیر هاشمي لم یرد عقدها وإن تزوجت عربیا غیر قرشي لهم رده کتزویج العربیة أعجمیا الخ (۱). فقط

دلوړ نسب دانجلۍ نکاح دادنۍ درجې دهلک سره وسی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۷۴) یوه ښځه چې دآدان قوم ده دیوحجام سره یې نکاح وکړه نوولی دښځې چې داعلی کفو څخه دی په نسب دحجام شرعا نکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟ اوپه عرب اوعجم کی دنسب لحاظ سته اوکه نه؟

جواب: په کفاءت کی دنسب اعتبار په عربوکی دی اوپه عجمو کی دکسب وغیره اعتبار دی نوکه ښځه اعلی ده په اعتبار دکفاءت اوسړی دکمی درجې دی اودښځې کفو نه وی اودا ښځه ددی سړی سره نکاح وکړی نوولی ته اختیار دنکاح دفسخ کولو سته کذا فی فی الدرالمختار (۲). فقط

اکاپه غیر کفوکی واده وکی نوجائز دی اوکه نه؟ سوال: (۱۱۷۵) مشرف خان دخپلی وریری نور النساء بی بی نکاح په حالت دنابالغی دیو سړی سره وکړی خونور النساء بی بی په وخت دبلوغ هنګامه وکړه چې زه دانکاح نه منظوروم زما اکا زما نکاح په غیر کفوکی کړی وه زه په دی راضی نه یم په داسی صورت کی ددی نکاح شرعًاڅه حکم دی؟

جواب: په درمختار کی دی چې دپلار اونیکه څخه ماسوا بل ولی اکا وغیره که دنابالغ نکاح په غیر کفو کی وکړی نودا نکاح نه صحیح کیږی اوکه په کفو کی اوپه مهرِ مثل سره یې وکړی نونکاح صحیح کیږی خونابالغی ته وروسته دبلوغ څخه دفسخ اختیار سته یعنی په ذریعه دقاضی دی فسخ کړی په دی صورت کی که دمذکوره نابالغی نکاح ددی اکاپه غیر کفوکی کړیده نودا صحیح نه ده انجلۍ ته اختیار دی چې دبالغیدو څخه وروسته نکاح په خپله رضا په کفوکی وکړی: وان کان المزوج غیرهما ای غیر الاب وابیه الخ لایصح النکاح من غیر کفو او بغبن فاحش اصلاً الخ (۳). فقط

---

(۱) ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۳۸. ط.س. ج۳ ص ۸۲. ظفیر

(۲) والکفاءة حق الولي لا حقها فلو نکحت رجلا ولم تعلم حاله فإذا هو عبد لا خیار لها بل للأولیاء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۲، ط.س. ج۳ ص۸۵) وان زوجت في غیر کفو لا یلزم او لا یصح (ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۲، ط.س. ج۳ ص۸۴) وله ای للولي اذا کان عصبته الخ الاعتراض في غیر الکفو فیفسخه القاضي (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولي ج۲ ص۴۰۸، ط.س. ج۳ ص۵۶). ظفیر

(۳) تقدم ان غیر الاب والجد لو زوج الصغیرة او الصغیر في غیر کفو لا یصح (ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص ۴۳۹، ط.س. ج۳ ص۸۴). ظفیر

دزنا دکسب کوونکی سره دتیلی دلور نکاح جائز ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۷٦) بالغی هندی بی داجازته داولیاؤ دزید سره نکاح وکړه زید اوهنده دواړه قومیان دی خو دهندی خاندان دتیلو ایستلو کارکوی اودزید خاندان زناکاری کوی اودهندی خاندان ددی نکاح اجازه نه ورکوی نودا نکاح شرعا جائزده اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا وهوالمختار للفتوٰی الخ قال فی ردالمحتار للشامی وقال شمس الائمة وهذا اقرب الی احتیاط (۱) الخ ص ۲۹۷ ج۲ شامی وفیه ایضامن الکفاءة فلیس فاسق کفو لصالحة الخ (۲). ددرمختار ددی روایتونو څخه معلومیږی چی په دی صورت کی نکاح صحیح نه ده. فقط

دادنی قوم انجلۍ داعلی قوم دهلک سره نکاح وکړی نوصحیح ده: سوال: (۱۱۷۷) یوه باکره انجلۍ چی په قوم بافنده رذیل قوم دی عمر یي اتلس کاله دی نودی خپله نکاح په خپله رضا دیوشریف قوم دسړی سره بی درضا دولی وکړه په مخکي دشاهدانو، دانکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح دبالغی عاقلی ښځی چی دی په خپله رضاسره دشریف قوم دسړی سره کړیده بغیر داجازته دولی په مخکی ددوو شاهدانو ، نودا نکاح صحیح ده شرعاً، په شامی کی دی چی: وان کان ماظهر فوق ما اخبر فلافسخ لاحد الخ ص **۵۹۸** وفی ص**۳۱۷** باب الکفاءة وفیه اشعار بان نکاح الشریف الوضیعة لازم فلا اعتراض للولی بخلاف العکس الخ (۳). فقط

جاهل دهقان دعالم دلور کفو دی اوکه نه؟ اونکاح صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۷۸) الزراع الجاهل هل یکون کفو صغیرة العالم وهی غیر عالمة ام لا واذا زوج غیر الاب والجد الصغیرة من رجل زراع هل یصح النکاح ام لا والحرفة فی الکفو معتبر ام لا؟

جواب: اقول وبالله التوفیق قول صاحب درمختار ولاهما لعالم وقضا (۴) وتحقیق علامه شامی ولاهما لبنت عالم وقاض الخ. څخه دا معلومیږی چی په دی صورت کی جاهل دهقان دعالم دلور کفو نه دی اوچی دپلار اونیکه څخه غیر بل چادا نکاح وکړه نوپه قول دمفتٰی به به دا نکاح صحیح نه وی: وان کان المزوج غیر الاب والجد الخ لایصح النکاح من غیر کفو (۵) الخ، درمختار. خوکه پلار یانیکه داسی نکاح وکړی نوصحیح (٦) ده. در

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۸ - ۴۰۹ ، ط.س. ج۳ ص ۵۲. ظفیر
(۲) ایضا باب الکفاءة ج۲ ص ۴۴۰ - ۴۴۱. ط.س. ج۳ ص..... ظفیر
(۳) ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۲ ، ط.س. ج۳ ص۸۵. ظفیر
(۴) وګوری الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۴۲، ط.س. ج۳ ص۹۰. ظفیر　=

مختار. فقط

وهابي نجدي ته لور ورکول څنګه دي؟ سوال: (۱۱۷۹) نجدی وهابی غیر مقلد ته لور ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: چی پرکمه فرقه دکفر فتوٰی ده لکه مرزايي اوشیعه غالی نو ددوی سره دسنی مسلمانی نکاح حرامه ده اونکاح به نه وی سوی اوچی پرکمه فرقه دکفر فتوٰی نسته لکه چی غیر مقلد اونجدی ددوی سره دسنی ښځی نکاح صحیح ده. فقط

شریفه ښځه دنوی مسلمان سړی کفو ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۸۰) مسلمانه ښځه دشریف خاندان دنوی مسلمان کفو ده اوکه نه؟ اونکاح په دواړو کی به وسی اوکه نه؟

جواب: شریفه ښځه چی دهغه پلار یانیکه مسلمانان راروان دی دنوی مسلمان کفونه ده، ددی وجه څخه که ولی ددی ښځی راضی نه وی نونکاح نه منعقده کیږی اوکه ولی اوکه دا ښځه راضی وی نونکاح کیږی. ویفتٰی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا وهو المختار للفتوٰی درمختار وهذا اذا کان لها ولی ولم یرض به قبل العقد ([1]) الخ. شامی ج۲. فقط

افغان او امیر دیوبل کفودی اوکه نه؟ او ددوی په خپل مینځ کی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

سوال: (۱۱۸۱) زید په قوم افغان دی اوکسب یي دهقانی ده اوهنده په قوم امیر او کسب ددی دوارثانو دهقانی ده نوزید دهنده کفو دی اوکه نه؟ په دواړو صورتونو کی دهندی وارثانو ته دنکاح دفسخ کولو اختیار سته اوکه نه؟

جواب: په عجمو کی دنسب لحاظ نسته اوفی الحال کسب یوډول دی نو ددی وجه څخه مذکوره زید دهندی کفو دی نودهندی اولیاء مذکوره نکاح نه سی فسخ کولی. قال فی الدر المختار هذا فی العرب ای اعتبار النسب انما یکون فی العرب الخ ([2]). شامی.

دپښتني ښځی نکاح دراجپوت مسلمان سره جائز ده: سوال: (۱۱۸۲) بندی نومي کونډه په قوم پښتنه خپله نکاح دشمشاد علی خان راجپوت سره کړیده په دی باندي دبندی مذکوری مور او ورور ناخوښۀ دی چی په دی غیر کفو کی مو نکاح کړیده نودا نکاح جائز ده اوکه نه قابل دفسخ ده اوکه نه؟

جواب: چی کم قومونه عجمی دی په دوی کی کفاءت معتبر نه دی نوپه مسئوله صورت کی دبندی نومي کونډی نکاح دشمشاد علی خان سره سویده ، صحیـــح ده او دا صحیح

([5]) ولا الخیاط لبنت البزاز والتاجر ولا هما لبنت عالم وقاض (ردالمحتار ج۲ ص۴۴۲. ط.س. ج۳ ص۹۱). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۹ ، ط.س. ج۳ ص ۲۷. ظفیر

([1]) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۸ – ۴۰۹ ، ط.س. ج۳ ص۵۲. ظفیر

([2]) ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۸ ، ط.س. ج۳ ص۸۷. ظفیر

نافذه ده (۱) ا وورور دانکاح نه سی فسخ کولی. فقط

دنوی مسلمان سړی او دښځې نکاح صحیح ده په دوی کی دکفاءت اعتبار نسته؟ سوال: (۱۱۸۳) یوبنګی اسلام قبول کی اویوی هندوی ښځی اسلام قبول کی نوددی دواړو نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: ددوی نکاح په خپل مینځ کی جائز ده اوپه دی کی دکفاءت اعتبار نسته ځکه چی دواړه دنوی مسلمان کیدو په بناء په یوه مرتبه سوه (۲). فقط

دتعلیم یافته ښځې نکاح دجاهل سړی سره جائزده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۸۴) زماسره یوی ښځی په خپله مرضی سره نکاح وکړه خوښځه تعلیم یافته ده اوزه جاهل یم دمدعی دعوی ده چی زمونږ دتعلیم یافته انجلۍ نکاح ستا جاهل سره جائزنه ده نوپه دی صورت کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: ښځه بالغه که خپله نکاح په خپله مرضی په کفوکی وکړی نوصحیح ده اودښځی تعلیم یافته کیدل اودخاوند جاهل کیدل مانع دصحت دنکاح نه دی چی کله خاوند دښځی څخه په اعتبار دکسب وغیره کم تر وی (۳). فقط

افغان قوم عجمي دی اوکه عربي اوپه دوی کی به دکفو څه طریقه وی؟ سوال: (۱۱۸۵) افغان عربی قوم دی اوکه عجمی که عربی دی نودعربی کمی قبیلی ته منسوب دی که عجمی دی نوآیا په عجم کی نسبی کفو معتبردی اوکه نه؟ په افغانستان کی په بعضو ځایونو کی رواج دی چی خپلی لونی خرڅوی نوزمونږ دملك جولاګان، تیلیان، درزیان، موچیان، نائیان وغیره دوی په بیعه واخلی اونکاح ددوی سره وکړی نوآیا دانکاح شرعًا جائزده اوکه نه؟

جواب: ددی امر تحقیق ددوی په نسب نامه کتلو سره کیدی سی چی ددوی سلسله دنسب کم ځای ته رسیږی اوپه عجمو کی کفاءت په اعتبار دنسب نه دی (۴) بلکی په کسب وغیره دی او دانجونو په قیمت اخیستلو رواج بد اوقبیح رسم دی خونکاح کیږی.

---

(۱) وهذا في العرب واما في العجم فتعتبر حرية واسلاماً (درمختار) اعتبار النسب إنما يكون في العرب قوله: اما في العجم المراد بهم من لم ينتسب الى احد قبآئل العرب الخ الا من كان له منهم نسب معروف كالمنتسبين الى أحد الخلفآء الأربعة (ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۳۸، ۴۳۹. ط. س. ج۳ ص۸۷). ظفير

(۲) واما فى العجم فتعتبر حرية واسلاما (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۳۹ ، ط. س. ج۳ ص۸۷). ظفير

(۳) په کفاءت کی دعلم اعتبار نسته اودنسب وغیره اعتبار سته. وتعتبر الكفاءة الخ نسبا وحرية واسلاما وديانة وحرفة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۳۸، ط.س. ج۳ ص۸۲ – ۹۰). ظفير

(۴) وهذا فى العرب اى اعتبار النسب انما يكون فى العرب (ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۳۸، ط.س. ج۳ ص۸۷).

دافغان نکاح دکمبوه سره صحیح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۸۶) هندې خپله نکاح بغير داجازته دخپل سکه اکا دزيد سره وکړه هنده ديودولتمند اودشريف خاندان په قوم افغانه ده، اوزيد غريب سړی دکمبوه قوم څخه دی چې خلګ دوی شريف قوم نه ګڼی نوولی دهندی دانکاح شرعًا فسخ کولی سی اوکه نه؟ اخرج الدارقطنی ثم البيهقی فی سننهما عن جابر بن عبدالله قال قال رسول الله ﷺ : لا تنكحوا النساء الا من نفسها من الالفاء ولا يزوجن الا الاولياء اوداهم په موطا دامام محمد رحمه الله کي دي: ولو زوجت المرأة لنفسها من غير كفو فلوليها الفسخ، حاشية موطا امام محمد ص ۲۴۸ باب النكاح بغير ولی. فقط

جواب: پښتون اوکمبوه په خپل مينځ کی کفودی اوبالغه ښځه په خپله بی داجازی دولی خپله نکاح په کفوکی کولی سی اونکاح دبالغی بی داجازی دولی په کفوکی صحيح او نافذه ده نوپه صورت مسئوله کی دهندی بالغی نکاح دزيد سره صحيح اومنعقده سوه اوچې نکاح په کفو کی سويده نوولی ته حق دفسخ حاصل نه دی په درمختار کی دی: فنفذ نكاح حرة مكلفة بلا رضى ولی الخ [1]. فقط

قوميت او ولديت دبدل نکاح جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۸۷) چې څوك قوميت اوولديت بدل کړی نونکاح کيږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح نه کيږی [2]. فقط

دنابالغی انکار: سوال: (۱۱۸۸) ۱. نابالغی هندی ته چې کله دفريب حال معلوم سو نو دی انکار وکی چې ماته دانکاح منظوره نه ده نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟

دنابالغی اجازه: سوال: (۱۱۸۹/۲) هندی په حالت دنابالغتوب نکاح کول منظور کړل بيا چې کله بالغه سوه دغه وخت يې نکاح نامنظوره کړه اوسمدستی يې انکار وکی چې ماته دانکاح منظوره نه ده نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: ۱. دنابالغی انکار اونه انکاربرابردی (که صرف ددی په اجازه نکاح سوی وی خو صحيح نه ده [3]. ظفير)

۲. دبلوغ څخه وروسته انکار معتبردی، خو دنکاح دفسخ دپاره قضاء دقاضی شرط ده

---

(1) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولي ج۲ ص۴۰۷، ط.س. ج۳ ص۵۵. ظفير

(2) لو تزوجته على انه حر او سنی الخ فبان بخلافه اوعلى انه فلان ابن فلان فاذا هو لقيط او ابن زنا لها الخيار الخ (ردالمحتار باب الكفائة ج۲ ص۴۳۶، ط.س. ج۳ ص۸۵). ظفير

(3) وهو ای الولی شرط صحة نكاح صغير ومجنون ورقيق ای شخص صغير الخ فيشمل الذكر والانثى (رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۰۷ ، ط.س. ج۳ ص۵۵). ظفير

(۱) کذا فی الدرالمختار والشامی فقط (صرف دنابالغی په منظوری سره نکاح صحیح نه ده ددی وجه څخه که ولی اجازه نه وی ورکړی نودا نکاح نه ده سوی چی دفسخ ضرورت پیداسی. ظفیر)

شیعه که په دهوکه سره نکاح وکړی نودا جائزده اوکه نه؟ **سوال:** (۱۱۸۹) که یوشیعه سړی یوی ښځی ته دا دهوکه ورکړی چی زه سنی یم نو ددی نکاح په باره کی علماء دین څه فتوٰی ورکوی؟

جواب: په دی صورت کی دفقهاؤ فتوٰی داده چی نکاح نه کیږی اوښځه دده څخه جلا کیدی سی. فقط

دنکاح څخه وروسته چی معلومه سی چی هلک حرامی دی نونکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟

سوال: (۱۱۹۰) زید دخپلی نابالغی لور نکاح دهندی دزوی سره وکړه وروسته بیا معلومه سوه چی هلك حرامی دی نو دداسی هلك سره چی په نسب کی یې فرق وی اوپه خاندان کی بدنامی وی نوزید دلور دبلوغ څخه مخکی دانکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دنکاح دفسخ کولو اختیار سته اوانجلۍ یې دبلوغ څخه وروسته دافسخ کولی سی او ولی یې هم فسخ کولی سی (۲). فقط

په نسب کی یې دهوکه ورکړه اونکاح یې وکړه وروسته داغلط ثابت سو نوڅه حکم دی؟

سوال: (۱۱۹۱) یوسړی خپل ځان افغان ښکاره کی اودیو نوی مسلمان نیك سړی دلور سره یې نکاح وکړه وروسته بیامعلومه سوه چی دی افغان نه دی انجلۍ اوولی دغه وخت اظهار دناراضتیا وکی، نوانجلۍ اوولی ته ددی نکاح دفسخ اختیار سته اوکه نه؟

جواب: که داسړی کفو را ونه وتی نوانجلۍ اوددی ولی ته اختیار دفسخ دنکاح سته ځکه چی ده دهوکه کړیده ددوکه ورکولو په صورت کی فقهاء هم دالیکی چی ښځه او ددی ولی دانکاح فسخ کولی سی کذا فی الدرالمختار (۳). فقط

دشیعه خاوند چی کم اولاد پیداسو داحلالی دی اوکه حرامی؟ **سوال:** (۱۱۹۲) دسنی ښځی اوشیعه سړی نکاح صحیح ده اوکه نه؟ اوچی کم اولاد پیدا سی هغه حلالی دی او

---

(۱) لهما ای لصغیر وصغیرة خیار الفسخ الخ بالبلوغ الخ بشرط القضاء للفسخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص ۴۲۰ - ۴۲۱. ط.س. ج۳ ص ۲۹). ظفیر

(۲) و(۳) لو تزوجته علی انه حر اوسنی الخ اوعلی انه فلان بن فلان فاذا هولقیط اوابن زنا لها الخیار (ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۲، ط. س. ج۳ ص۸۵) الا اذا شرطوا الکفاءة او اخبرهم بها وقت العقد فزوجوها علی ذالك ثم ظهر انه غیر کفو کان لهم الخیار (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۷، ط.س. ج۳ ص۸۶). ظفیر

که حرامی؟ اوددی ښځی اودسړی جماع شرعًا جائزده اوکه نه؟

جواب: دسنی ښځی اودشیعه سړی نکاح صحیح نه ده ددوی په مینځ کی تفریق ضروری دی، اوجماع اونژدیکت صحیح نه دی باقی چی کم اولاد پیداسو هغه ثابت النسب او ولد الحلال دی اوکه نه؟ په دی کی داتفصیل دی چی دروافضو په کفر اوپه ارتداد کی څه تفصیل دی اودنسب په باره کی احتیاط پکاردی ددی وجه څخه چی کم اولاد پیدا سوی هغه ثابت النسب اووارث به (۱) وی خو دبیا دپاره احتیاط کول په کاردی. فقط

دراجپوت دقوم مسلمان دلور سره فقیر په دهوکه واده وکی جائز دی اوکه نه؟ سوال:

(۱۱۹۳) زینب چی کونډه دراجپوت قوم څخه ده ددی یوه لور هنده نابالغه ده زینب دزید په دهوکه کی راغله چی دقوم فقیر وو اوده خپل ځان راجپوت ښکاره کی اودخپلی لور هندی نکاح یي دزید سره وکړه نودا نکاح وسوه اوکه نه؟ دهندی خاندان والا دهندی نکاح په بل ځای کی کول غواړی نودا جائز ده اوکه نه؟

جواب: په عجمو کی کفاءت په اعتبار دنسب سره معتبر نه دی (۲) بلکی دکسب وغیره پراعلی اوادنی کیدو باندی دی بناء پردی په ظاهر صورت دسوال کی نکاح منعقده سوه، اوبغیر دطلاق ورکولو دخاونده دوهمه نکاح دهندی نابالغی به صحیح نه وی. فقط

هلک دهوکه ورکړه چی زه دفلانی قوم څخه یم دنکاح څخه وروسته معلومه سوه چی ددی قوم څخه نه دی، نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۹۴) زید بکر ته وویل چی زه په قوم مرده یم ته خپله لوردی ماته راکړه بکر چی دزید داخبره واوریدله نودخپلی نابالغی لور نکاح یي دزید سره وکړه اوس دامعلومه سوه چی زید نوی مسلمان دی اوپه قوم مرده نه دی بلکی نټ دی اوس انجلۍ دزید په نکاح کی پاته ده اوکه نه؟ اونکاح جائزده اوکه نه؟ اودا انجلۍ دمور اوپلار کره اوسیدی سی اوکه نه اوکه دخاوند سره به اوسی؟

جواب: تزوجته علی انه حر اوسنی اوقادر علی المهر والنفقة فبان بخلافه او علی انه فلان بن فلان فاذا هولقیط اوابن زنا کان لها الخیار الخ (درمختار (۳)) وفی الشامی لو انتسب الزوج لها نسبا غیر نسبه فان ظهر دونه وهو لیس بکفو فحق الفسخ ثابت للکل

---

(۱) ویحتاط فی اثبات النسب ما امکن (ردالمحتار فصل فی المحرمات ج۲ ص۴۰۱، ط. س. ج۳ ص۴۹) وتقدم فی باب المهر ان الدخول فی النکاح الفاسد موجب العدة وثبوت النسب (ایضا باب العدة ج۲ ص۸۳۵ ، ط.س. ج۳ ص۵۱۲). ظفیر

(۲) وهذا فی العرب واما فی العجم فتعتبر حریة واسلاما (درمختار) ای اعتبار النسب انما یکون فی العرب (رد المحتار باب الکفاءة ج۲ ص ۴۳۸ ، ط.س. ج۳ ص۸۷). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره قبیل باب العدة ج۲ ص۸۲۲ وردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۲. ط.س. ج۳ ص۵۰۱. ظفیر

الخ (۱). ددی روایتونو څخه معلومه سوه چی په صورت مذکوره کی فسخ دنکاح کیدی سی اودفسخ دنکاح څخه وروسته دی بکر خپله لور په کور وساتی اوخاوند کره دي یې نه لیږی ځکه چی نکاح فسخ سویده. فقط

دسیدي نکاح دنوی مسلمان سره چی په قوم دحجام دی وسوه اوقبول بل چا وکی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۱۹۵) دبالغی هندی نکاح اجازه ددی مور یوسړی ته ورکړه چی دخالد سره یي وکړه ماسوا دمور څخه دهندی بل ولی نسته وکیل بالنکاح دهندی عقد داسی وکی چی خالد خاموش پاته سو اوقبول بل چا وکی اویودریم سړی دمهر تعین وکی او مجلس دنکاح ختم سو اووکیل بالنکاح وغیره هم پاڅیدل، بیا وروسته دعقد څخه هنده او خالد سره ولیدل او تردوو میاشتو پوری اوسیدل اتفاقا هنده ته معلومه سوه چی زما خاوند نوی مسلمان حجام دی نوداسختنه خفه سوه ځکه چی داسیده وه هنده خپل کور ته راغله اودده سره اوسیدل نه غواړی اوداسړی هم طلاق ورکول نه غواړی نوپه دی کی څه حکم دی؟

دسړی خاموشتیا قبوله ده اوکه نه؟ ۲/ . آیا دسړی خاموشی په ایجاب اوقبول کی دثبوت دنکاح دپاره کافی ده؟

دغیر کفو څخه دجدایي صورت ۳/ . آیاپه تفریق دکفو کی دافتراق څه صورت سته؟

ددوو میاشتو اوسیدو څخه وروسته ۴/ . که دوی میاشتی یازیات په غلطی سره په ښځه اوخاوند کی په ناجائزی طریقی سره په خپل مینځ کی صحبت وسو نوڅه حکم دی؟

جواب: ۱/و۲/ . دسړی خاموشی دایجاب اوقبول دپاره کافی نه ده په دی صورت کی به نکاح نه وی. قال فی البزازیة أجاب صاحب البدایة في امرأة زوجت نفسها بألف من رجل عند الشهود فلم یقل الزوج شیئا لکن أعطاها المهر في المجلس أنه یکون قبولا وأنکره صاحب المحیط وقال لا ما لم یقل بساني (۲). خوچی کله دخالد دطرفه یوبل سړی قبول وکی نودا قبلول دفضولي سو نوددی وجه څخه داموقوفه ده دخالد پراجازه که خالد داقبول کی اوجائز یي وساتی اوپه ژبی سره یي وویل چی مادا قبول ومنی نونکاح به صحیح سوه. کما هو حکم نکاح الفضولی.

۳/ . که په وخت دنکاح هنده او ددی مور چی ددی ولی ده دخالد غیر دکفو کیدو علم نه وو، نوموافق دروایت ددرمختار ددوی نکاح ونه سوه. ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا (۳) الخ. اوکه خالد خپل نسب خپل ښکاره کی او وروسته هندی ته معلومه سوه

(۱) ردالمحتار باب العنین وغیره قبیل باب العدة ج۲ ص۸۲۲ ، ط.س. ج۳ ص ۵۰۱. ظفیر

(۲) ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۳۲۴ قبیل مطلب التزویج بارسال الکتاب. ظفیر =

نوبیا وروسته دعلم څخه دی ته اختیار دفسخ دنکاح سته. لوتزوجته علی انه حر اوسنی الخ فبان بخلافه اوعلا انه فلانی بن فلان فاذاهولقیط اوابن زنا کان لها الخیار الخ (۱). فقط

۴۱. چی کم فعل په غلطی سره وسی دامعاف دی دبیا دپاره انجلۍ ته دجلاکیدو اختیار دی.

دبالغی په غیر کفو کی نکاح کله صحیح ده؟ سوال: (۱۱۹۶) دبالغی ښځی نکاح په غیرکفو کی کیدی سی اوکه نه؟ یعنی لور دمتقی سړی وی اوهلك عمومًا کسب دچواړیتوب کوی خومسلمان دی اودارکم ولی چی غیر وی داب اودجد نه څخ ېووار انجلۍ په نکاح ورکولو سره دده ولایت ساقط سو اوکه نه؟

جواب: ښځه که په خپله په غیر کفو کی په نکاح کولو راضی وی اوددی ولی هم راضی وی نوجائزده خودرضاء دولی څخه بغیر بالغی ښځی ته هم په غیر کفو کی دنکاح کولو اختیار نسته. قال فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا الخ وفی الشامی وهذا اذاکان لها ولی ولم یرض به قبل العقد فلایفید الرضاء بعده بحر واما لم یکن لها ولی فهو صحیح نافذ مطلقا اتفاقا الخ شامی (۲) ص ۲۹۷ ج۲. اوپه یووار نکاح کولو سره دولی ولایت نه زائلیږی.

په اجازه دولی داعلی قوم دانجلۍ نکاح دادنی قوم سره جائزده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۹۷) داعلی قوم دانجلۍ نکاح دادنٰی قوم دسړی په اجازه داولیاؤ جائز ده اوکه نه؟

جواب: بالغه ښځه چی خپله نکاح په غیر کفوکی وکړی اوددی اولیاء راضی وی نودا نکاح صحیح ده خوکه اولیاء راضی نه وی نومفتٰی به داده چی دانکاح صحیح نه ده، په درمختار کی دی: ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا الخ قوله بعدم جوازه اصلا هذا روایة الحسن عن ابی حنیفة وهذا اذا کان له ولی ولم یرض به قبل العقد (۳) الخ شامی ص ۲۷ ج۲. فقط

دسیدی سره نکاح دغیری سید صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۱۱۹۸) دسیدی سره دغیرِ سید نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په در مختار کی دی: ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا (۴). که سیده بالغه

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۸ - ۴۰۹، ط.س. ج۳ ص۵۲. ظفیر

(۱) ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۲، ط.س. ج۳ ص۸۵. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۸ وص۴۰۹، ط.س. ج۳ ص ۵۲. ظفیر

(۳) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۸ وص۴۰۹، ط.س. ج۳ ص ۵۲. ظفیر =

خپله نکاح په خپله رضا په غیر کفوکی بی داجازی دولی وکړی نودا جائز نه ده اوپر دی فتوٰی ده اوکه دولی په اجازه يي وکړی نودا نکاح صحیح ده کذافی الشامی (۱) (دادی واضحه وی چی که دغیر سید څخه مراد شیخ صدیقی، فاروقی، عثمانی، وی نودا نکاح صحیح ده ځکه چی دادسید هم کفودی اوکه عجمی النسل وی نوجائزبه نه وی. ظفیر)

دبالغی سیدی واده په رضا دولی په غیر کفوکی جائز دی: **سوال**: (۱۱۹۹) یوسړی مطابق داحکامو دشریعت دیوی ښځی سره نکاح وکړه دغه وخت داعلم نه وو چی داښځه سیده ده وروسته بیا شبه راغله چی شاید دادسید لوروی نوکه دادسید لور وی نوپه دی نکاح کی به خوڅه نقص نه وی په دی حال کی چی سړی غیر سید دی؟

جواب: که ددی سیدی څوك عصبه نه وی یا وي خو دده په رضاء نکاح وسوه اودا سیده بالغه وه اودی په خپلی رضاء سره په غیر کفو کی نکاح کړیده نوپه دواړو صورتونو کی نکاح صحیح ده خوکه ددی سیدی څوك عصبه موجود وی اوددی په غیر کفو کی په نکاح کولو راضی نه وی نودا نکاح منعقده نه سوه. ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا وهوالمختار للفتوٰی الخ درمختار. اوپه شامی کی دی وهذا اذا کان لها ولی ولم یرض به قبل العقد الخ واما اذا لم یکن لها ولی فهو صحیح نافذ مطلقا اتفاقا الخ (۲) شامی ج۲ ص۲۹۷. فقط

دغیر کفوسره واده جائزدی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۰۰) زید خپله نکاح دبالغی انجلۍ سره وکړه چی دغیر کفو وه نودا نکاح جائز سوه اوکه نه؟

جواب: بالغه انجلۍ چی خپله نکاح په خپله مرضی دولی دراييي اوداجازی څخه خلاف په غیر کفوکی وکړی نودا نکاح به دمفتٰی به مذهب مطابق نه صحیح کیږی، کذافی الدر المختار، اوکه ددی بالغی څوك ولی نه وی یا خووی لیکن ده اجازه ورکړی وی نونکاح صحیح کیږی (۳) (داپه دی صورت چی انجلۍ دلوړ خاندان وی ځکه چی دکفو اعتبار په دی صورت کی دی. (۴) ظفیر)

---

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۸ ، ط. س. ج۳ ص ۵۲. ظفیر

(۱) هذا اذا کان لها ولی لم یرض به قبل العقد الخ اما اذا لم یکن لها ولی فهو صحیح نافذ مطلقا اتفاقا الخ (رد المحتار ج۲ ص۴۰۹ ، ط.س. ج۳ ص۵۷) او زوجها بغیر کفو ان کان الولی ابا اوجدا الخ فیصح النکاح اتفاقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۱۸. ط.س. ج۳ ص۶۲). ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۴۰۸ – ۴۰۹، ط.س. ج۳ ص ۵۲ – ۵۷. ظفیر

(۳) ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا وهو المختار للفتوٰی الخ ان لم یکن لها ولی فهو ای العقد صحیح نافذ مطلقا اتفاقا (درمختار) وهذا إذا کان لها ولي لم یرض به قبل العقد فلا یفید الرضا بعده بحر، وأما إذا لم یکن لها ولي فهو صحیح نافذ مطلقا لأن وجه عدم الصحة علی هذه الروایة دفع الضرر عن الأولیاء الخ وقول =

په دهوکه چې کمه نکاح وسوه په دې کې دفسخ اختیار سته اوکه نه؟ سوال: (۱۲۰۱) زید هندو مسلمان سو او دیوی مسلمانی سره یې نکاح وکړه دده لور پیدا سوه دانجلۍ دبالغیدو څخه وروسته دانجلۍ نکاح په خاندان دکشمیریانو کې وسوه داخاندان دډیری مودې څخه په مالیر کوټله کې آباد دی چې ددوی دنومونو په اخرکې خان راځي اوپه دستاویزاتو کې هم افغان لیکي چې عموما داپښتانه ګڼل کیږي زید هم دوی کشمیری پښتانه وګڼل او دخپلې لور نکاح یې په دې قوم کې وکړه، دزید لور صرف ددوو درو ورځو دپاره خپل خاوند کره تللې ده دزید لور ته داشکایت وسو چې ماته خاوند دپیغور خبرې وکړې چې موږ کشمیری پښتانه یو اوداپښتنه نه ده نوددې وجه څخه زه ددوی کره نه ځم ما ددې څخه جلا کړې دلور پلار هم غواړي چې دانکاح فسخ سی شرعًا دانکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟

جواب: شامي په دې باب کې تفصیل کړیدی، ددرمختار پردې قول: لو تزوجته على انه حر او سني او قادر على المهر والنفقة فبان بخلافه الخ قوله: كان لها الخيار اى لعدم الكفاءة واعترضه بعض مشايخ مشايخنا بأن الخيار للعصبة قلت: وهو موافق لما ذكره الشارح أول باب الكفاءة من أنها حق الولي او حق المرأة لكن حققنا هناك أن الكفاءة حقهما ونقلنا عن الظهيرية لو انتسب الزوج لها نسبا غير نسبه فإن ظهر دونه وهو ليس بكفو فحق الفسخ ثابت للكل وإن كان كفوا فحق الفسخ لها دون الأولياء وإن كان ما ظهر فوق ما أخبر فلا فسخ لأحد، وعن الثاني أن لها الفسخ لأنها عسى تعجز عن المقام معه وتمامه هناك لكن ظهر لي الآن أن ثبوت حق الفسخ لها للتغرير لا لعدم الكفاءة بدليل أنه لو ظهر كفوا يثبت لها حق الفسخ لأنه غرها ولا يثبت للأولياء لأن التغرير لم يحصل لهم وحقهم في الكفاءة وهي موجودة وعليه فلا يلزم من ثبوت الخيار لها في هذه المسائل ظهوره غير كفو (۱) ج۲ ص۵۹۷. اخر باب العنين قبيل باب العدة. ددې عبارت څخه واضحه ده چې امام ابویوسف رحمه الله فرمایي چې په کم صورت کې چې خاوند کم نسب خپل بیان کړیدی که ددې خلاف ښکاره سی که څه هم دښځې دنسب څخه اعلی نسب او

= البحر لم يرض به يشمل ما إذا لم يعلم أصلا فلا يلزم التصريح بعدم الرضا بل السكوت منه لا يكون رضا كما ذكرناه فلا بد حينئذ لصحة العقد من رضاه صريحا (ردالمحتار باب الولي ج۲ ص ۴۰۸ – ۴۰۹، ط.س. ج۳ ص ۵۶ – ۵۷). ظفير

(۴) فإن حاصله أن المرأة إذا زوجت نفسها من كفو يلزم على الأولياء وإن زوجت من غير كفو لا يلزم أو لا يصح بخلاف جانب الرجل فإنه إذا تزوج بنفسه مكافئة له أو لا فإنه صحيح لازم (ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۳۲. ط.س. ج۳ ص۸۴). ظفير

(۱) وګوری ردالمحتار باب العنين وغيره ج۲ ص ۸۲۲ – ۸۲۳. ط.س. ج۳ ص ۵۰۱. ظفير

سبب دشرم نه وی نوبیا هم ښځی ته اختیار دفسخ سته اوددی علت یې دابیان کړیدی چې: لانها عسی تعجز عن مقام معه، اودعلامه شامی رجحان دیته معلومیږی لکه چې دده دوروستنی عبارت څخه واضحه ده چې په: ظهر لی الان سره یې بیان کړیدی، او خلاصه داده چې ددهوکی په وجه ښځی ته خیار دفسخ سته نه په وجه دعدم کفاءت دهوکه صرف ددی سره ثابتیږی چې دخاوند خپل نسب هغه بیان کړی چې کم دده په حقیقت کی نه وی که څه هم غرض دخاوند دهوکه نه وی لکه چې دعبارت دلو انتسب الزوج الخ څخه معلومیږی. فقط

جواب دمخکنی سوال: (**مکرر**) دطرفه داحقر په خدمت دبابرکت حضرت مخدومی مولانا صدیق احمد صاحب مدظله السلام علیکم ورحمة الله، خطا راورسیده دفقه درویاتو څخه ددواړو خبرو احتمال معلومیږی نو ددی وجه حاضر معاملات دی وګوری مفتی ته چې کم طرف راجح اونسب ښکاره سی نوفتوٰی ورکولی سی، دعدم فسخ دپاره قول دطرفینو فلا فسخ لاحد، دلیل کافی دی اوکه دمفتی په رایه کی دقرائنو اودحالاتو څخه دا راجح معلومیږی چې په موجوده حالاتو کی به دزوجینو په مینځ کی موافقت رانسی اودفسخ حکم نه کول دنورو فسادونو باعث به سی لکه چې مظنون دی اودلیل یې: عسی ان تعجز عن المقام معه، دلته لګول ښه معلومیږی نوقول دامام ابویوسف هم مؤید بالروایات دی لکه چې فقهاؤ دفتوٰی دپاره داترتیب قائم کړیدی: انه یفتی بقول الامام علی الاطلاق ثم بقول الثانی ثم بقول الثالث ([1]) الخ. دارکم بعضو دیته هم صحیح ویلی دی چې دامام صاحب اودصاحبینو په مینځ کی چې دچا دلیل هم قوی وی هغه دی اختیار سی لکه چې ددی عبارت څخه ښکاره ده: وصحح فی الحاوی القدسی قوة الدلیل المدرك ([2]) الخ. که څه هم داښکاره ده چې قوة ددلیل معلومول زموږ کارنه دی ددی څخه علاوه دیوې قاعدې تصحیح فقهاؤ کړیده چې بنده پرمشتمله پرچه نقل کړیده ددی څخه ښکاره ده چې قضاء اودمعاملاتو په ساتلو کی علی الاطلاق قول دامام ابویوسف مفتی به کیږی لکه چې په مسائلو دوقف کی هم فقهاؤ ددی تصریح کړیده په درمختار کی په کتاب الوقف کی دی چې: واختلف الترجیح والاخذ بقول الثانی احوط واسهل بحر وفی الدر صدر الشریعة وبه یفتی واقره المصنف ([3]) الخ درمختار. اوپه شامی کی دی قوله واختلف الترجیح مع التصریح فی کل منهما بان الفتوٰی علیه لکن فی الفتح ان قول ابی

([1]) ردالمحتار مقدمه ج۱ ص۷۰ مطلب اذا تعارض. ظفیر
([2]) مقدمه ردالمحتار ج۱ ص..... ، ط.س. ج۳ ص۱۷. ظفیر
([3]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الوقف ج۳ ص۵۰۲، ط.س. ج۳ ص۳۵۱. ظفیر

یوسف اوجه عند المحققین (۱) ﷫ شامی ص۳۳۲ ج۳. حاصل داچی قول دامام ابویوسف په دی معاملاتو کی راجح کیدل مصرح دی خومفتی اوقاضی داختلاف دروایتونو په صورت کی چی کم جانب په اعتبار دضرورت اوقرائنو سره اختیار کړی جائزدی: ولکل وجهة هوموليها فقط، په درمختار کی دی: واختلف فيما اختلفوا فيه ، والأصح كما في السراجية وغيرها أنه يفتي بقول الإمام على الإطلاق ، ثم بقول الثاني ، ثم بقول الثالث ، ثم بقول زفر والحسن بن زياد ، وصحح في الحاوي القدسي قوة المدرك (۲) ای قوة الدليل وفي الشامي: تتمة: قد جعل العلمآء الفتوى على قول الإمام الأعظم في العبادات مطلقا الخ وقد صرحوا بأن الفتوى على قول محمد في جميع مسائل ذوي الأرحام، وفي قضاء الأشباه والنظائر الفتوى على قول أبي يوسف فيما يتعلق بالقضاء كما في القنية والبزازية اهـ أي لحصول زيادة العلم له به بالتجربة الخ وفي شرح البيري أن الفتوى على قول أبي يوسف أيضا في الشهادات الخ شامی (۳) ج اول ص۴۹. فقط

دتقیه څه معنٰی ده اوشیعه چی دهوکه وکړی او دسنی انجلئ سره نکاح وکړی نوددی څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۲۰۲) رافضی شیعه خپل ځان اهل سنت والجماعت ښیي داهل اسلام دانجونو سره نکاح کوی اوبیان کوی چی تقیه فرض ده اودده په تقیه کولو سره داهل سنت والجماعت دانجونو سره نکاح تړل قائم پاته کیږی اوکه نه؟ اوددوی دتقیه څه حکم دی؟ اودتقیی شرعا څه معنٰی ده؟

جواب: شیعه اورافضی که دهوکه وکړی اوخپل ځان سنی ښکاره کړی اودسنیه سره نکاح وکړی نودعلم څخه وروسته دې ښځی سنیه او ددی ولی ته دنکاح دفسخ کولو اختیار دی اوغالی شیعان چی دحضرت علی ﷜ دالوهیت معتقددی یادحضرت ابوبکر صدیق ﷜ دصحابیت منکردی یاپه حضرت عائشة ﵂ تور لګوی دوی ته فقهاء قطعًا کافر وایي. كما فی الشامی نعم لا شك في تكفير من قذف السيدة عائشة رضي الله تعالى عنها أو أنكر صحبة الصديق أو اعتقد الألوهية في علي أو أن جبريل غلط في الوحي أو نحو ذلك من الكفر الصريح المخالف للقرآن (۴) الخ جلد ثالث شامی ص۲۹۴. نودداسی غالی شیعه سره دمسلمانی سنیه نکاح نه منعقد کیږی اوتقیه چی دروافضو معمول دی اوپه حقیقت کی نفاق دی اودروغ دی اوحرام دی ځکه چی روافض هم په شان

(۱) ردالمحتار کتاب الوقف ج۳ ص ۵۰۲ ، ط.س. ج۳ ص ۳۵۱. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص ۶۵ ، ط.س. ج۳ ص۷۰ مقدمه شامی. ظفیر
(۳) ردالمحتار ج۱ ص۶۶ ، ط. س. ج۱ ص۷۱. ظفیر
(۴) ردالمحتار باب المرتد ص ۴۰۵ – ۴۰۲، ط.س. ج۳ ص۲۳۷ مطلب فی حکم سبّ الشیخین. ظفیر

دمنافقانو اهل سنت والجماعة ته دهوکه ورکوی اوددوی په مخکی دڅه معمولی ګتی دپاره خپل ځان سنی ښکاره کړی اوخپل باطل عقاید پټوی لکه منافقانو چی به خپل باطل عقائد دمسلمانانو څخه پټول اوخپل ځان به یې مسلمان څرګندووی، کما قال الله تعالی: واذا لقوا الذین آمنوا قالوا آمنّا واذا خلوا الی شیاطینهم قالوآ انا معکم انما نحن متسهزئون (الآیة) اودی تقیه ته فرض ویل هم دمنافقانو په شان خصلت دی چی دوی به داډیره هوښیارتیا ګڼی چی په دروغو به یې آنحضرت ﷺ اواهل اسلام ته به یې دهوکه ورکوله نوفرض ویل دروافضو داسی مذموم اوقبیح فعل ته هم دروافضو دخباثت بل دلیل دی پربطلان دمذهب ددوی. فقط

دصالحی انجلۍ دفاسق سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۱۲۰۳) دیوفاسق چی دفاسق زوی دی، ددی سره دیو متشرع سړی دلور عقد کیدی سی اوکه نه؟ که په صورت دبی خبری په فسق عقد وسی نوصحیح به وی اوکه نه؟ انجلۍ دبلوغ څخه مخکی دخاوند کره ولاړه اوهلته بالغه سوه دهغه ځای څخه دپلار کره راغله اواوس په وجه دفسق او دفجور اودظلم دخاوند وغیره دوباره دخاوند کره تلل نه غواړی نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟ انجلۍ بالغه ده ولی اقرب (پلار) ددی درضا څخه بغیر ددی عقد کړیدی دعقد څخه مخکی ددی ناراضی داسی وه چی خوب او خوراك یې حرام کړی وو وروسته دعقد څخه دمشرانو په جبر اوپه زور دخپلی خسرګنی کره ولاړه بیادهغه ځای څخه دمور اوپلار کره راغله اواوس پرعدم طلاق یاپر عدم خلع خودکشی خوښوی اودخسرګنی کره تلل نه غواړی اوخاوند په طلاق راضی نه دی اونه په خلع، اوانجلۍ ارتداد اوخودکشی ته تیاره ده نوماسوا دطلاق اودخلع څخه څه بل صورت دانجلۍ دجلاکیدو سته اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار فلیس فاسق کفوا لصالحة الخ فی ردالمحتار من الخانیة لایکون الفاسق کفوا للصالحة بنت الصالحین الخ ص۳۲۰ ج۲ شامی، وایضا فی الدر المختار ولزم النکاح ولو بغبن فاحش الخ او بغیر کفو ان کان الولي المزوج بنفسه اباً او جداً الخ ایضاً فیه کذا اذا زوجها الولي عندها بحضرتها فسکتت صح في الاصح ان علمته کما مر والسکوت کالنطق في سبع وثلثین مسئلة مذکورة في الاشباه الخ ددی عبارتونو اودامثالوڅخه یې دتمامو شقونو دسوال جواب دامعلومیږی چی فاسق دنیکی ښځی چی دنیکانو لورده کفو نه دی اوکه دپلار اودنیکه څخه ماسوا بل یوولی په غیر کفو کی نکاح وکړه نودا نه صحیح کیږی، اوکه پلار نیکه په غیر کفو مثلاً دفاسق سره نکاح وکړی نوصحیح ده اوپه بالغه انجلۍ داجبار ولایت دهیچا نسته ددی نکاح په خپله ددی په اجازه سره کیدی سی خوکه ولی دانکاح کړی وی اودا چپ پاته سوی وی

اودی دنکاح دخبر پہ اوریدو سرہ رد دنکاح ونہ کړی کہ څہ ہم دا دمخکی څخہ خاموشہ وی نودا نکاح صحیح سوہ اوکہ سمدستی دی دنکاح څخہ انکار وکی چی ماتہ منظورنہ دہ نودا نکاح باطلہ سوہ نوکہ داپہ دوہم شکل واقع سوی وو یعنی چی بالغی دنکاح خبر واوریدی نوانکار ییې وکی او ناراضتیا ییې ښکارہ کړہ نودا نکاح باطلہ سوہ پہ دی صورت کی ییې دبل سرہ نکاح صحیح دہ اوکہ مخکی صورت واقع سوی وی یعنی چی بالغی انجلۍ دنکاح خبر واوریدی اودپلار پہ کړو خاموشہ سوہ! اوپہ نکاح ییې سکوت وکی اودایېی صراحۃ رد نہ کړلہ نودپلار دا تړلی نکاح صحیح سوہ پہ دی صورت کی بغیر دطلاق ورکولو یادخلع کولو څخہ دا انجلۍ دخپل دخاوند دنکاح څخہ نہ وزی او دوہمہ نکاح کول ددی بہ جائزنہ وی. فقط

فاسق دصالحی کفو دی اوکہ نہ؟ سوال: (۱۲۰۴) ددین عالمان څہ فرمایيي پہ دی مسئلہ کی چی امۃ الرحمٰن چی بالغہ دہ دمولانا سلیمان مرحوم ابن مولانا محمدیوسف مرحوم بن مولوی عبدالقیوم مرحوم بن مولوی عبدالحی مرحوم چی پہ خپلہ ہم صالحہ اولور ہم دصالحانو دہ، ددی ماما وایيي چی ددی نکاح زما دزوی سرہ سویدہ اوداھلك دصوم او صلوٰۃ دضرویات شرعیہ وو پایبندہ نہ دی پہ انتریس کی انگریزی وایيي اودنوی دماغو روشن اورڼاخیال ہم دی اودانجلۍ اکا مولوی محمد اسمٰعیل چی لمسی دمولوی عبدالقیوم مرحوم دی غواړی چی دانجلۍ نکاح دیونیك صالح سرہ ددی پہ رضا وسی نو چی کفوپہ اعتبار ددیانت دلاندینی عبارتونو دفقھاؤ پہ دی سبب معتبر گڼل سویدی.

قال قال وتعتبر ایضاً في الدین ای الدیانة وهذا قول ابي حنیفة وابي یوسف رحمهما الله هو الصحیح لانه من اعلی المفاخر والمرأة تعیر بفسق الزوج فوق ما تعیر بصنعته نسبةً، هدایه اولین فصل في الکفاءة، روی الحسن عن ابي حنیفة رحمه الله انه یجوز النکاح ان کان کفواً او ان لم یکن کفواً لا یجوز اصلاً واختلفت الروایات عن ابي سوف رحمه الله والمختار في زماننا للفتوی روایة الحسن قال الشیخ الامام شمس الائمة السرخسي رحمه الله روایة الحسن اقرب الی الاحتیاط قاضی خان جلد اول فی شروط النکاح ص ١٥٤. وتعتبر فی العرب والعجم دیانة ای تقوی فلیس فاسق کفوا لصالحة اوفاسقة بنت صالح معلنا کان اولا علی الظاهر، درمختار علی حاشیة الطحطاوی قوله (معلنا کان اولا) اما اذا کان معلنا فظاهر واما غیر المعلن فهو بان یشهد علیه بانه فعل کذامن الفسقیات وهو لایجاهر به فیفرق بینهما بطلب الاولیاء، حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار ص٤٣ ج٢.

نوپہ اعتبار دبرنی قانون دعبارتونو مذکورہ اکا مخکنی نکاح پہ قاضی سرہ فسخ کولی سی اودیوبل نیك سړی سرہ ددی انجلۍ پہ رضامندی نکاح کولی سی اوکہ نہ؟ مستفتی

دریاست اسلامی اوسیدونکی دی قاضی اومفتی موجود دی اودنکاح دفسخ کار ممکن دی اودانجلۍ څخه څو واره پوښتنه سویده هغه موافق دعادت دنیکانو اودشریفانو دلوڼو دشرم دوجه څه نه وایي اودصریح اجازه ثبوت هم دانجلۍ دطرفه څخه نه معلومیږی حال دادی چی دلاندینی عبارت څخه صریح اجازه ضروی معلومیږی، قال ان فعل هذا غير الولي يعني استامر غير الولي او ولی غيره اولی لم يكن رضا حتى تكلم به لان هذا السكوت لقلة الالتفات الى كلامه فلم يقع دلالة على الرضاء ولو وقع فهو محتمل والاكتفاء بمثله للحاجة ولاحاجة في حق غير الاولياء ، هداية اولين باب الاولیآء والاكفاء . فقط

جواب: داصحیح ده چی کفائة فی الدين معتبردی فاسق سړی دصالحه بنت صالحین کفو نه دی اومفتٰی به داده چی ولی مزوج که دپلار نیکه څخه علاوه بل څوك وی نوپه غیر کفو کی نکاح صحیح نه ده دفسخ دنکاح ضرورت هم نسته ځکه چی نکاح سوی نه ده، اوپه صورت مسئوله کی خومزوج ولی هم نه دی، ځکه چی دعصباتو په وجودکی ماماته ولایت نسته. بلکی ماما په دی صورت اجنبی دی، په دی حالت کی که په کفو کی هم نکاح وای نو دانجلۍ دصریح اجازې څخه بغیر نکاح نه کیده اوپه مذکوره صورت کی دانجلۍ صریح اجازه ثابته نه ده، په دی دوو وجهو سره مذکوره نکاح ناجائزده اوصحیح نه ده کما ذکر فی السوال. اکا چی شرعی ولی دی دبالغی په اجازه دی دیونیك سړی سره ددی نکاح وکړی نودا نکاح به جائزسی او دولی دنکاح کولو په صورت کی دبالغی سکوت هم دلیل درضا دی: كما في الدرالمختار وكذا اذا زوجها الولی عندها فسكتت صح وفيه ايضا قبله فان استاذنها هو ای الولی (الی ان قال) فسكتت عن رده (الى قوله) فهو اذن الخ فقط. والله اعلم

دخور دلور اولاد هم یوکفو دی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۰۵) دخور یادلور اولاد کفو دی اوکه نه؟

جواب: دخور اودلور اولاد کفودی په دی شرط چی ددی واده په کفوکی سوی وی کتبه احقر الطلبة رشید احمد غفرله، الاجابة صحيحة. بنده عزیز الرحمٰن عفٰی عنه، الكفاءة معتبرة من جانبه لامن جانبها (تنویر) درمختار شامی ج۲ ص۴۳۲. جمیل الرحمٰن

اووم باب

اول فصل مسائل او احکام دمهر

دښځی دمرګ څخه وروسته دمهر روپی وارثانو ته ورکول سی اوکه خیرات سی؟ سوال: (۱۲۰۶) دزید ښځه هنده ده ددې نکاح په پنځوس روپی مهر وتړل سوه داښځه مړه سوه

اوس زيد غواړي چي مهر ادا کړي اوښځه څه اولاد نه دی پريښی صرف مور اوپلار يي دی نواوس دامهر وارثانو ته ورکړی که خيرات يي کړي اومصرف دخيرات کم يوښه دی؟

جواب: چي کم مهر دهندی پرذمه دخاوند دی په دی کي نيم به دخاوند سی اوباقی نيم به دهندی مور اوپلارته ورکول سی (1) زيد ته دخپلی حصی اختيار دی چی خيرات يي کړي اوکه نه؟ اودمور پلار حصه به دوی ته ورکوی ياکه دوی اجازه ورکړي نوخيرات کول صحيح دی ښه مصرف دصدقی محتاج دمساکينو دی، باقی په اعتبار دموقعه چی دکم کار ضرورت وی په دی کی دی مصرف کړی په اختلاف دوختونو مختلف مصرفونه غوره وی. فقط

دمهر په بدله کی يي کور ورکی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۰۷) دزيد دښځی هندی مهر پنځوس روپی وی، نوچی کله مرګ ته نژدی سو نودغه وخت يي زه وبللم اودقاضی په رجسټر کی يي وليکل چی په عوض دمهر کی زه هندی ته يوکچه کور ورکوم دشاهدانو په مخکی داکار وسو نوپه دی صورت کی مهر اداء سو اوکه نه؟ اوڅه امر دشريعت څخه خلاف خونه دی؟

جواب: په دی صورت کی مهر اداسو او هيڅ خلاف دشرع نه دی سوی. فقط

مهر معجل څلور کاله وروسته هم اداء نه سو نوحق دزوجيت سته اوکه نه؟ سوال: (۱۲۰۸.) ديوی ښځی نکاح دمهر معجل سره وسوه چی دهغه څلور کاله اوسو خوخاوند مهر ادانه کی دعدالت پوری خبره ولاړه ډګری هم دمهر وسوه خوهيڅ صورت دوصولی سته، نوآياداسی خاوند حق دزوجيت لری اوکه نه؟ حال دادی چی خاوند مهر اداء کول نه غواړي؟

جواب: دمهر معجل نه ادا کولو په صورت سره په نکاح کی څه فرق نه راځی، اوښځه دزوجيت اودنکاح څخه نه خارجيږي خوښځه دوطی وغيره څخه انکار کولی سی او ورسره دتللو څخه هم انکار کولی سی: ولها منعه من الوطی ودواعيه والسفر به الخ لاخذ مابين تعجيله من المهر کله اوبعضه (2) الخ ص۳۵۸ شامی باب المهر. فقط

دمهر دپاره ښځه خپل ځان بندولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۰۹) زيد دخپلی لور نکاح وکړه انجلۍ دزيد دکور څخه دخاوند کره کله هم نه ده تللی اوخلوت صحيحه هم نه دی سوی اوخاوند طلاق هم نه دی ورکړی نوپه دی صورت کی ناوی دمهر اخيستو په غرض

---

(1) واما للزوج فحالتان النصف عند عدم الولد وولد الابن وان سفل (سراجی ص۱۳). ظفير

(2) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۹۲، ۴۹۳. ط. س. ج۳ ص ۱۴۳ مطلب فی منع الزوجة نفسها لقبض المهر. ظفير

ځان بندولی سی اوکه نه؟ اوکه دخلوت صحیحه څخه مخکی طلاق وسی نومهربه څومره وی؟

جواب: په درمختار کی دی: ولها منعه من الوطی ودواعیه الخ والسفر به ولو بعد وطی وخلوة لاحد مابین تعجیله من المهر کله اوبعضه [1] الخ. ددی عبارت څخه معلومه سوه چی مهر معجل وی نوښځه دمهر اخیستو دپاره خاوند دوطی وغیره څخه منع کولی سی اودوطی څخه مخکی په طلاق سره نیم مهر لازمیږی (اوکه مهر معجل (فوری ادا کولو والا) نه وی نوخاوند دوطی څخه نه سی منعه کولی. ظفیر)

چی کمه ښځه په خپله طلاق حاصل کړی نوآیا دامهر اخیستی سی؟ سوال: (۱۲۱۰) چی کمه ښځه دخپل خاوند څخه طلاق وغواړی اوواخلی نومهر اخیستل شرعا صحیح ده او که نه؟ په داسی حال کی چی خلع نه وي سوی، که خاوند دمهر ور کولو څخه انکار وکی نو دقیامت په ورځ به دی په دی نیولی وی؟

جواب: مهر ددی ښځی لازم دی، که مدخوله وی پوره مهر واجب دی کنې نو نیم، اوپه نه ورکولو به یې خاوند دحقوق العباد گنهگار وی [2]. فقط

مهر معجل اوموجل څه ته وایي؟ سوال: (۱۲۱۱) (۱). مهر معجل اوموجل څه ته وایي آیا دمعجل اودموجل چی کمه لغوی معنیٰ ده هغه په فقه کی هم معتبره ده اوکه دفقه په اصطلاح کی داپه بله معنیٰ دی؟

مهر نیم معجل وی اونیم موجل، نو مطالبه کول څنګه دی؟ سوال: (۱۲۱۱) ۲. دیوسړی نکاح دیوی ښځی سره وسوه اوپه دی کی نیم مهر معجل اونیم موجل مقرر سو شل کاله وروسته ښځی دطلاق څخه مخکی اودموت داحد الزوجین څخه مخکی دمهر مطالبه وکړه دامطالبه کول دښځی صحیح دی اوکه نه؟

چی کله په مهر کی تفصیل نه وی نو دمطالبی څه حکم دی؟ سوال: (۱۲۱۱) ۳. دیوسړی نکاح دیوی ښځی سره وسي اودمهر مقدار ذکروی خودمعجل اودموجل څه تذکره نه وی نوبی طلاقه اوبی موته داحد الزوجین ښځی ته حق دمطالبې دمهر سته اوکه نه؟

جواب: ۱ تا ۳. دمهر معجل اودموجل چی کمه لغوي معنیٰ ده نوهم دغه دفقهاؤ اصطلاح هم ده چی کم مهر فی الحال اخیستل سوی یافی الحال ورکول مقررسوی وی نودا معجل

---

[1] ایضا ط. س. ج۳ ص۱۴۳. ظفیر

[2] وتجب العشرة إن سماها أو دونها ويجب الأكثر منها إن سمى الأكثر ويتأكد عند وطئ أو خلوة صحت من الزوج أو موت أحدهما ويجب نصفه بطلاق قبل الوطئ او خلوة (درمختار) افاد ان المهر وجب بنفس العقد الخ وانما يتأكد لزوم تمامه بالوطى ونحوه (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۰۲). ظفیر

دی اوچی دکم مهر څه موده دادا کولو دپاره مقرره وی یا خو لا علی التعین پرینښوول سوی وی نودا موجل دی اودغیر معین مودی دپاره موده مرگ اویاطلاق دی، که نیم مهر معجل اونیم موجل وی نودمعجل مطالبه ښځه فی الحال کولی سی (۱). اودموجل غیر معین مطالبه بی طلاقه یادمرگ څخه مطالبه دمهر نه سی کولی. کما فی العالمگیریه: لا خلاف لأحد أن تأجيل المهر إلى غاية معلومة نحو شهر أو سنة صحيح وإن كان لا إلى غاية معلومة فقد اختلف المشايخ فيه قال بعضهم يصح وهذا كان الغاية معلومة في نفسها وهو الطلاق أو الموت الخ عالمگیریه. (۲) فقط

دمهر موجل داداء کولو څخه بغیرهم ښځه بېولی سی او دښځی تکلیف بیانول جرم نه دی:

سوال: (۱۲۱۲) زید دخپلی لور واده دبکر سره وکړی دبکر میریزی خواښی دبکر څخه په څه وجه نارضا ده اودبکر ښځه دده کورته تللو ته نه پریږدی اوزید یي هم لمسولی دی، چی دبکر نکاح په پنځه سوه روپی رائج الوقت مهر باندی سویده چی غیر معجل دی دزید لور په وخت دنزدیکت کی تندی تریو کړی خو دنژدیکت څخه وروسته یي تکلیف کیدل بیانول چی دهغه اظهار په وخت دعلاج کولو زید ته وسو اوس زید په دی خبره پربکر جرم دپردی ښکاره کولو لگوی اودزوجیت دختمولو خواهشمند دی، نوآیا په دی صورت کی بکرخپله ښځه بېولی سی؟ اوبکرکه دعلاج په غرض سره دښځی جسمانی حال بیان کی نوپربکر پردی څه مواخذه یاجرم کیدی سی؟ اوزید دخپلی لور مهر فی الحال اخیستی سی؟

جواب: بکرپه دی صورت کی خپله ښځه بېولی سی، اوده ته حق دی چی خپله ښځه بوځی اودکم مهر چی میعادنه وی بیان سوی نوددی دوصولی وخت طلاق یامرگ دی اوفی الحال ددی مطالبه نه سی کیدی (۳) اوپه غرض دعلاج دښځی جسمانی تکلیف بیانول جرم نه دی، اوبکر په دی کی مجرم نه دی. فقط

په مرض الموت کی مهر په معاف کولو سره نه معاف کیږی اوپه جائداد کی ددوارو ښځو داولاد حق سته: **سوال:** (۱۲۱۳) زیدپه خپله منکوحه په داسی حالت کی چی ددی عمر

---

(۱) ولها منعه من الوطی ودواعیه الخ لاخذ مابین تعجیله من المهر کله اوبعضه اواخذ قدرما یجعل تمثلها عرفا به یفتی لان المعروف کالمشروط ان لم یوجل اویعجل کله الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۲ - ۴۹۳، ط. س. ج۳ ص۱۴۳). ظفیر

(۲) عالمگیریه مصری کتاب النکاح باب سابع فصل حادی عشر ج۱ص ۲۹۸ طبع ماجدیه ج۱ ص۳۱۸. ظفیر

(۳) ولم يذكر الوقت للمؤجل الخ يقع ذلك على وقت وقع الفرقة بالموت او بالطلاق وروى عن ابي يوسف ما يؤيد هذا القول كذا في البدائع (عالمگیري مصری کتاب النکاح باب سابع فصل حادی عشر ج۱ص۲۹۸ طبع ماجدیه ج۱ ص۳۱۸). ظفیر

اولاد هم ژوندی موجوددی مهر معاف کی بیایې وروسته دوهم واده وکی اوددی ښځی ځخه هم څه اولاد پیداسو اودخپل اولاد حصه دوراثت یې حاصله کړه او دزید مخکنی اولاد یې ددوی دمور ددین دمهرځخه په وجه دعلت تمادی (ډیره موده تیریدل) بی دعوی کړل اودزید پرجائیداد یې قبضه وکړه دحصه دوراثت ځخه یې هم محروم وګرځول آیا شرعًا دمخکی ښځی اولاددزید دجائیدادځخه دخپلی مورمهر اوحصه دوراثت حاصلولی سی اوکه نه؟ اوآیا په معاف کولو سره دمهر قرض معاف کیږی اوایا تمادی په اسقاط دحقوقو کی شرعًا معتبر دی اوکه نه؟

جواب: په حالت دمرض الموت کی مهر معاف کول دخاوند معتبر نه دی، ددی مړی ښځی اولاد دخپله حصه دمیراث اومهر شرعًا داخیستو حقداردی، ددوهمی ښځی قبضه په تمام جائیداد اوترکه دخاوند باندی شرعًا باطله ده دمخکنی ښځی داولاد په دی کی حق دی، اوتمادی شرعًا هیڅ شی نه دی په کتابونو دفقه کی دی: ان الحق لایسقط بتقادم الزمان شامی (۱)۔ وفی الدرالمختار اعتاقه وحاباته وهبته الخ کل ذالك حکمه کحکم وصیة الخ (۲) وفیه ایضا لا وصیة لوارث (۳)۔ فقط

دانجلۍ ولی لره مهر اخیستل خرڅ کول اودمهر ځخه زیاتی روپی اخیستل څنګه دي؟ سوال: (۱۲۱۴) دمخطوبه اولیاؤ لره دخاطب ځخه دمهر ځخه ماسوا نور څه اخیستل اودمهر اخیستل اوپه دی کی مالکانه تصرف کول اودعوت وغیره پر کول جائزدی اوکه نه؟

جواب: دمخطوبه اولیاؤ لره که څه هم په بعضوحالاتوکی مهراخیستل صحیح دی خوددی مطلب دادی چی دانجلۍ پلار دامهر واخلی نه داچی په دی کی بی ځایه تصرف وکړی ولي چی دصغیر اودصغیره مال ضائع کول پلار اونیکه لره هم صحیح نه دی، اودخاوند وغیره ځخه دمهر ځخه نور څه علاوه اخیستل فقهاء داپه رشوت کی شمار کړیدی اوپه سوال کی چی کم عبارت ذکر دی، په هغه کي ددی اجازه نسته چی دامهر دی په بی ځایه رسوماتو دنکاح کی ولګول سی (۴)۔ فقط

خاوند چی دنکاح ځخه وروسته مهر زیات کړي نوښځه ددي هم حقداره ده: **سوال**: (۱۲۱۵) ښځه اوخاوند دنکاح په وخت نابالغه وه دواړه اوس بالغ دی اودښځی ډولی لاتر اوسه نه

---

(۱) ردالمحتار ط.س. ج۵ ص۴۲۰ کتاب الدعوی مطلب هل یبقی النهی بعد موت السلطان. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العتق فی المرض ج۵ ص۵۹۲ و۵۹۷. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب کتاب الوصایا ج۵ ص ۵۷۵ ، ط.س. ج۶ ص ۶۷۹. ظفیر

(۴) ومن السحت ما یاخذ الصهر بسبب بنته بطیب نفسه (ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ج۵ ص۳۷۴ ، ط.س. ج۶ ص۴۲۴)۔ ظفیر

ده راغلی که خاوند دښځی دمنشا مطابق څه زیات مهر مقرر کړی اوبیا چی کله دښځی دډولۍ څخه وروسته که دمهر وصول کولو ضرورت راسی یاخاوند طلاق ورکړی نوښځه به دتمام مهر شرعا حقداره وی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار قوله فانها تلزمه ای الزیادة ان وطی اومات عنها الخ شامی ([1]). نومعلومه سوه چی دوطی څخه وروسته پوره مهر سره دزیاتی لازمیږی. فقط

دمطلق مهر په صورت کی دطلاق څخه وروسته ښځه دمهرمطالبه کولی سی: **سوال**: (۱۲۱۶)

دهندی نکاح دزید سره وسوه په دی کی نه قاضی صاحب اونه ناکح دمهر څه تفصیل بیان کی ونه یي معجل وویل اونه یي موجل، ناکح وویل چی زه هنده په عوض دپنځو زرو مهر کی په خپل زوجیت کی قبوله می کړه نو ایا دامهر معجل دی اویا موجل اوکه یا څه معجل اوڅه موجل؟ زید هندی ته طلاق ورکی آیا هندی ته داحق حاصل دی چی دا دزید څخه دخپل مهر مطالبه وکړی په وخت دنکاح، دمهر معجل او دموجل دتفصیل دنه کیدو سره اوس دهندی دمهر په وصولی کی به څه جګړه راځی، دمهر معجل اودمهر موجل تعریف جامع مانع ولیکی؟

جواب: دمهر معجل او موجل چی کمی لغوی معنٰی دی هغه شرعی هم دی یعنی مهر معجل هغه دی چی فی الحال ورکول سی یافی الحال ورکول ددی مقرر سی، اوموجل هغه دی چی ددی څه موده معین وی اوچی په کم مهر کی معجل اودموجل څه ذکرنه وی نوپه دی کی به دعرف اعتباروی یعنی چی څومره عرفًا اول ورکول کیږی نودابه معجل وی اوباقی به موجل، په عالمګیریه کی یي دارکم کړیدی چی که دموجل دپاره څه وخت ذکرنه سی نوددی دادا کولو وخت طلاق یامرګ دی نو په صورت مسئوله کی چی زید هندی ته طلاق ورکړیدی نوهنده دمهر مطالبه کولی سی ([2]). فقط

ددریم خاوند دکولو څخه وروسته هم دمخکنیو دوو خاوندانو څخه دمهر اخیستو حقداره ده:

سوال: (۱۲۱۷) حلیمې دری نکاح ګانی وکړی اوس ددریم خاوند په وجودکی دپخوانیو دوو مړو خاوندانو څخه دمهر اخیستو حقداره ده اوکه نه؟

جواب: داښځه دمهر اخیستو حقداره ده ([3]). فقط

([1]) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۳، ط. س. ج۳ ص۱۱۱، ددرمختار پوره عبارت دادی: اوزید علی ما سمی فانها تلزمه بشرط قبولها فی المجلس اوقبول ولی الصغیر الخ (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۳)، ظفیر

([2]) وان کان لا الی غایة معلومة فقد اختلف المشائخ فیه قال بعضهم یصح وهو الاصحیح وهذا لان الغایة معلومة فی نفسها وهو الطلاق اوالموت (عالمګیری مصری کتاب النکاح باب سابع فصل حادی عشر ج۱ ص۲۹۸. ط.س. ج۱ ص۳۱۸). ظفیر

([3]) فما زاد فعلیه المسمٰی ان دخل بها اومات عنها لانه بالدخول یتحقق تسلیم المبدل وبه یتاکد البدل وبالموت =

دسور دینار قیمت چی کله مختلف وی نوفیصله به څه وی؟ **سوال**: (۱۲۱۸) دهندی مهر پنځه سوه سره دیناره وګرځول سو اودسور دینار وزن اوقیمت مختلف فیه دی اقل درجه دسور دینار دڅو ماشوده اوپه سکه کلدارو مروجه وو سره دڅومره روپو کیږی، اوزیاته درجه یي څه ده؟ اوقول مفتٰی به په دی باره کی څه دی؟ اودینار دڅه شی څخه وی؟

جواب: دینار اومثقال یوشی دی اووزن دمثقال اوددینار څلور نیمی ماشی دی اودادسرو زرو وی نوکه سره زر داته ویشتو روپو یوه توله وی لکه چی داوخت نرخ دی نویو دینار به داتووی، په غیاث اللغات کی دی چی مثقال په کسری دمیم سره دانوم دیو وزن دی چی څلور نیمی ماشی کیږی (۱) (داوخت په سنه ۱۳۸۷هـ کی سره زر یوه توله په پاوکم دوه سوه روپی خرڅیږی، اوپه دی زمانه کی به ددینار قیمت ډیرزیات وی، دارنګه په هره زمانه کی چی دسرو زرو کم قیمت وی هغه ته به حساب کول کیږي. ظفیر)

دمړی سوی ښځی مهر ددی اولاد اخیستی سی: **سوال**: (۱۲۱۹) یوسړی دی چی مړسویدی اودری ښځی لری اودری واړه ښځی دده څخه مخکی مړی سویدی او وروستی لره یي مهر ورکی اوس مشران اولاد ددواړو ښځو غواړی چی دخپلو مندو ومهر جلاکړی، نوآیا ددی ښځو مهر به اداء کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کی به ددواړو مړو ښځو مهر ادا کول کیږي چی دهرې یوی حصه به ددی په اولاد کی تقسمیږی (۲). فقط

دخاوند په جائیداد کی تصرف کول اوپه ترکه اخیستو سره مهر ساقطیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۲۰) زید مړسو یوه ښځه هنده اویوه لور فاطمه یي پریښوول په زید باندی دده دښځی دمهر قرض هم وو خودومره مال نقد زیورات اوجائیداد دصحراء اوداوسیدو په ترکه کی یې پریښوول چی دهندی دقرض څخه په څو درجو زیات وو هنده په خپل ژوند کی په تمام مال قابضه اومتصرفه وه اودبیع اودهبه هرقسم تصرف به یي کوی اودمقدار دمهر څخه یي ډیر زیات خرڅ وکی آخردی باقی جائیداد دخپلی لور فاطمه په نوم کی او اتمه حصه چی کم ددی شرعی حصه وه په خپل نوم پریښووله دخپلی خور دهندی دمهر

= ینتهی النکاح نهایة والشی بانتهائه یتقرر ویتاکد (هدایه باب فی المهر ج۲ ص۳۰۴). ظفیر

(۱) والمثقال هو الدینار عشرون قیراطا والدرهم اربعة عشر قیراطا والقیراط خمس شعیرات کذا فی التبیین (عالمګیری مصری کتاب الزکوٰة الباب الثالث ج۱ ص۱۲۷ طبع ماجدیه ج۱ ص۱۷۹) دارکم وګوری: غیاث اللغات لفظ دمثقال سره زر په دی وقت سنه ۱۳۹۱هـ کی توله سره زر په دوه سوه روپی دی نوپه دی وخت کی دڅلور نیمو ماشو زرو قیمت ۸۴ روپی ۳۷ پیسی دی. ظفیر

(۲) والمهر یتاکد باحد معاف ثلثة الدخول والخلوة الصحیحة وموت احد الزوجین الخ (عالمګیری مصری کتاب النکاح باب السابع فصل ثانی ج۱ ص۲۸۴ طبع ماجدیة ج۱ ص۳۰۳). ظفیر

دقرضو دعوٰی کوی اول فریق وایي چې کله دی په خپل ژوند کې دزید دتمام مال یوازي مالکه وه اودمهر دقرض څخه یي ډیر زیات خرڅ وکی اوچې کم باقی پاته دی وایی ما دا داتمی حصی څخه دخپلی لور فاطمه په نوم کړیدی ددی وجه څخه دمهر په قرض کې چې خدیجه نیمه حصه خپله غواړی نه سی ورکول کیدی البته په اتمه حصه کې نیم په حیثیت دخور کیدو ورکول کیدی سی په دی صورت کې دعوٰی دخدیجه دهندی دقرض دمهر په باره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: تصرف دهندی په ترکه مشترکه کې چې په حیثیت دوصول دقرض دمهر نه دی سوی بلکې ممکن ده چې داتصرف دی دخپلی لور اودخپلی حصی شرعی په حیثیت کړی وی ددی وجه څخه دعوٰی دخدیجې دنیم قرض مهر اوپه نیمی حصی شرعی دهندی کې صحیح دی حاصل دادی چې ترڅو دا ثابته نه سی چې هندی دمهر قرض وصول کې اومذکوره تصرفات یي په دغه مقدار په قرض مهرکې ورکړیدی تردغه وخته به دامتعین نه وی چې هنده خپل مهر وصول کې. والله اعلم

دمهر معاف کولو دپاره څه څه حیلې کیدی سی؟ سوال: (۱۲۲۱) چې قرض دمهر دخاوند دحیثیة ډیر زیات مقرر سوی وی دداسی مهر دقرض څخه دخلاصی څه صورت دحیلی کیدی سی؟

۲\. که دښځی څخه ددی دمهر معافی کلمات په څه حیله په یو اجنبی ژبه کې وباسی چې په دی دانه پوهیږی اوخاوند ښځی ته ددی اطلاع نه ده ورکړی نوآیا مهر به معاف سی؟

۳\. که ښځه په دی خبره راضی سی چې دا ووایي چې ماخپل حق دالله ﷻ سره په نیولو وبخښی یعنی زه به یي دالله ﷻ څخه مطالبه نه کوم باقی ترڅو چې په دنیا کې زما ژوند وی زما حق به وی چې کله هم ماته ضرورت وی یازه ستا څخه ناراضه سم نودحاکم په عدالت کې به مقدمه کولی سی اواخیستی به یي سم غرض داچي دمعاف کولو عنوان داسی وی چې که ترژونده پوری ما ستا څخه مهر وانه خیستی اوزه ستا څخه خوشحاله وم نودمرګ څخه وروسته مې درته خپل حق معاف کی نوپه داسی معاف کولو به څه اثر وی اوکه نه؟ اوپه دی صورت کې به مهر معاف سی اوکه نه؟

۴\. څه داسی هم حیله سته چې زید ته ددی څخه خلاصون ورکول سی.

۵\. آیا دښځی دمعاف کولو دپاره هم دشاهدانو موجودیدل دعدم مواخذه اخروی دپاره شرط دی؟

جواب: ۱\. دښځی مهر قرض دی دخاوند پر ذمه ددې څخه دخلاصون دوه صورته دی یا

داچی خاوند یي اداء کړی یا په ښځی یي معاف کړی بله څه حیله دمعافی نسته (1). فقط

۲\ . په دی طریقی سره مهر نه معاف کیږی.

۳\ . په درمختار کی دی: کما لا یصح تعلیق الابراء عن الدین بشرط محض کقوله لمدیونه إذ جاء غد أو إن مت فأنت بريء من الدين أو إن مت من مرضك هذا أو إن مت من مرضي هذا فأنت في حل من مهري فهو باطل لأنه مخاطرة وتعليق الخ وفی الشامی وذكر شمس الإسلام خوفها بضرب حتى تهب مهرها فإكراه إن كان قادرا على الضرب وذكر بكر سقوط المهر لا يقبل التعليق بالشرط ألا ترى أنها لو قالت لزوجها إن فعلت كذا فأنت بريء من المهر لا يصح، قال لمديونه إن لم أقتض مالي عليك حتى تموت فأنت في حل فهو باطل لأنه تعليق والبراءة لا تحتمله بزازية، شامی (2) جلد۴. مسائل متفرقه كتاب الهبة. ددی عبارتونو څخه واضحه سوه چی په مذکوره صورت سره مهر معاف نه دی. ۴\ . داسی هیڅ حیله معلومه نه ده.

۵\ . په اٰخرت کی دمواخذې څخه دخلاصیدو دپاره او دیانة دمعافولو دپاره دشاهدانو موجودیدل په وخت دمعافی ضروری نه دی. فقط

دطلاق ورکولو څخه وروسته دمهر ادا کول دخاوند په اختیار کی دی؟ سوال: (۱۲۲۲\) یو سړی دخپلی لور نکاح دیو سړی سره وکړه، او پنځه سوه روپی مهر یي مقرر کی اوس دانجلۍ پلار او انجلۍ داغواړی چی داسړی طلاق راکړی خو هغه طلاق نه ورکوی ددی وجه څخه چی انجلۍ به زما څخه پنځه سوه روپی مهر وصول کړی چی کم غیر معجل دی او ددی سړی دومره طاقت نسته چی مهر اداء کړی اوس دا انجلۍ دخپل مهر حقداره ده او که نه؟

جواب: داضروری ده چی دطلاق ورکولو څخه وروسته ښځه دمهرموجل مطالبه سمدستی کولی سی (3) باقی دطلاق ورکولو او نه ورکولو په باره کی شرعی حکم دادی چی که څه وجه دطلاق ورکولو موجوده نه وی یعنی دخاوند دطرف څخه نان نفقه اودښځو دحقوقو په ادا کولو کی څه کوتاهی نه وی سوی نوطلاق ورکول دده پرذمه لازم نه دی، خو که دی دښځی حقوق نه سی اداکولی او په دی کی دی کوتاهی کوی نوطلاق ورکول ده ته په کار

(1) ومن سمى مهرا عشرة فما زاد فعليه المسمٰى ان دخل بها اومات عنها (هدايه باب فی المهر ج۲ ص۲۰۴) وان حصلت عنه من مهرها صح الحط لان المهر حقها والحط يلاقيه حالة البقاء (ايضا ج۲ ص۳۰۵). ظفير

(2) ردالمحتار كتاب الهبة مسائل متفرقه ج۴ ص۷۱۲، ط. س. ج۳ ص۷۰۷ فصل فی مسائل متفرقه. ظفير

(3) وانكان لا الى غاية معلومة الخ قال بعضهم يصح وهو الصحيح وهذا لان الغاية معلومة في نفسها وهو الطلاق او الموت الخ وبالطلاق الرجعي ينعجل المؤجل الخ (عالمگيری مصری كتاب النكاح باب سابع فصل حادی عشر ج۱ ص۲۹۸ ط. ماجديه ج۱ ص۳۱۸). ظفير

دی ([1]). فقط

دښځې دمرګ څخه وروسته ددې دمهر حقدار څوک دی؟ سوال: (۱۲۲۳) دیوسړی ښځه مړه سوه اومهر نه دی ورکول سوی اونه معاف سوی وو، اوس دمهر اداء په کم صورت کیدی سی دجمات وغیره په کارونو کی دا لګیدی سی اوکه نه؟

جواب: چی دښځې مهر ادا سوی نه وی اودامړه سی نوددی دمرګ څخه وروسته به ددی مهر ددی وارثانو ته رسیږی، او ددی په وارثانو کی خاوند هم دی، که یو اولاد یې مړ نه وی نونیم دخاوند اونیم باقی به ورثه ذوی الفروض یاعصبات یاذوی الارحام چی څوک هم لری یانژدی قریب موجودوی ده ته دی ورکول سی که هیڅوك هم نه وی نوبیا تمام مهر به خاوند ته ورکول کیږی ده ته اختیاردی چی دده کم ځای خوښ وی ودی لګوی، یا په جمات وغیره کی دی صرف کړی خوپه وجود دنورو وارثانو خاوند ته ددوی په حصه کی دتصرف اختیار نسته بلکی ددوی حصه هم دوی ته ورکول پکاردی ([2]). فقط

په خوښی مهر معاف کړی نومعاف به وی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۲۴) (۱) یوه ښځه مړه سوه اوپه وخت دمرګ بی هوښه وه مهر یې معاف نه کی خوپه ژوند کی یې په پټه په خپلی رضا خاوند ته مهر معاف کړی اوخلګو ته معاف کول معلوم نه دی نودامهر معاف سو اوکه نه؟

۲\. یوی ښځې په پټه مهر معاف کی اوپه یوه موقف یې دڅوښځو په مخکی بی پردی ښکاره کړه چی ماخپل خاوند ته مهر معاف کړیدی په داسی صورت کی مهر معاف سو اوکه نه؟

جواب: ۱\. عند الله دامهر معاف سو ([3]). فقط

۲\. په دی صورت کی هم عندالله مهر معاف سو ([4]).

دطلاق څخه وروسته به مهر ورکول وی اوچی کم زیور یی ښځی ته هبه کړیدی هغه دښځې دی: سوال: (۱۲۲۵) زید په وجه دنا اتفاقی او دناچاق ښځی ته طلاق ورکول غواړی ښځې ته چی دامعلومه سویده نوددی وجه څخه دی تمام زیورات چی زید دنکاح څخه

([1]) الاصح حظره ای منعه الا لحاجة الخ ویجب لوفات الامساك بالمعروف (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۱ - ۵۷۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۸. ۲۲۹). ظفیر

([2]) دتفصیل دپاره وګوی سراجی باب ذوی الفروض. ظفیر

([3]) وان حطت عنه من مهرها صح الحط (هدایه باب فی المهر ج۲ ص۳۰۵). ظفیر

([4]) وصح حطها لکله اوبعضه عنه قبل اولا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر الطلب فی حط المهر والابراء منه ج۲ ص ۴۲۴ - ۴۲۵. ط.س. ج۳ ص۱۱۳). ظفیر

وروسته جوړ کړی وه په یوبل ځای کی پټ کړیدی، ددی مقصد دادی چی دطلاق څخه وروسته داتمام زیورات زما په قبضه کی وی اومهر به دزید څخه واخلم نودطلاق څخه وروسته دزید په ذمه ددی ښځی څومره حق دی؟

جواب: دطلاق څخه وروسته دخاوند پرذمه مهر اداء کول لازم دی اودعدی نفقه پرذمه دخاوند (۱) ده اودطلاق څخه مخکی چی خاوند کمه جامه اوزیور دیته هبه کړیدی دهغه دامالکه ده اوچی کمه جامه اوزیور یې په عارية ورکړیدی نوهغه به خاوند ته ورکول کیږی اویابه په مهر کی شماریږی (۲). فقط

غیر مطلقه دهوکه ورکړه اونکاح یې وکړه او دخاوند سره هم بستره سوه نومهر واجب سو اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۲۶) هنده غیرمطلقه که دزیدسره نکاح وکړی اودزیدسره هم بستري وکړي نوپر زید مهر اداء کول سته اوکه نه؟ اوهنده په واقع کی غیر مطلقه ده حق مسلمانان شاهدان یې پیش کړی چی زه مطلقه یم اونکاح کوم؟

جواب: په دی صورت کی لازم دی (۳). فقط

په عده کی چی کمه نکاح وسی نوددی مهر لازم دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۲۷) دهندی که په حالت دعده کی کمه نکاح وسوه اودهم بستری نوبت هم پیښ سی نومهر به واجب وی اوکه نه؟

جواب: په عده کی نکاح نه کیږی خوکه ښځی وویل چی زما خاوند ماته طلاق راکړی دی اوعده تیره سویده نوددی په بیان بیا ددی سره نکاح صحیح ده اوددوهم خاوند سره په دخول او کوروالی سره مهر مثل لازم دی په درمختار کی دی چی: وكذا لوقالت امراة لرجل طلقنی زوجی وانقضت عدتی لاباس ان ینكحها (۴) الخ الوطی فی دار الاسلام لا یخلوا عن حد اومهر (۵) الخ درمختار والموطوئة بشبهة ومنه تزوج امراة الغیر غیر عالم

---

(۱) وتجب لمطلقة الرجعی والبائن والفرقة بلامعصية الخ النفقة والسكنٰی والسكوة ان طالت المدة (درمختار) وفی المجتبٰی كنفقة العدة كنفقة النكاح الخ واطلق فشمل الحامل وغیرها والبائن بثلاث اواقل (ردالمحتار باب النفقة مطلب فی نفقة المطلقة ج۲ ص۹۲۱ ، ط.س. ج۳ ص۶۰۹). ظفیر

(۲) ولو بعث إلى امرأته شيئا ولم يذكر جهة عند الدفع غير جهة المهر الخ فقالت هو أي المبعوث هدية وقال هو من المهر الخ فالقول له بيمينه والبينة لها فإن حلف والمبعوث قائم فلها أن ترده الخ وفي غير المهيأ للاكل والقول لها بيمينها في المهيأ له (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۹، ط.س. ج۳ ص ۱۵۱ مطلب فی ما یرسل الی الزوج). ظفیر

(۳) ويجب مهر المثل في النكاح فاسد ؒ بالوطی في القبل لا بغيره كالخلوة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۸۱ – ۴۸۲، ط.س. ج۳ ص۱۳۱ مطلب فی النكاح الفاسد). ظفیر

(۴) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۴۷، ط.س. ج۳ ص۵۲۹ مطلب في المغي اليها زوجها. ظفير

(۵) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۵۰۷، ط.س. ج۳ ص۱۲۰. ظفير

بحالها الخ (۱). فقط

دمهر ورکولو څخه وروسته ښځه خنثیٰ مشکل وختله نومهر بیرته اخیستی سی اوکه نه؟

سوال: (۱۲۲۸) زید دهندی سره عقد وکی اودهندی اولیاؤ ته مهر وغیره اداء سو وروسته په وخت دخلوت صحیحه کی هنده خنثیٰ مشکل ثابته سوه نوایا زید دهندی داولیاؤ څخه مهر وغیره خرڅ سوی اخیستی سی اوکه نه؟

جواب: دخنثیٰ مشکل سره نکاح نه صحیح کیږی په درمختار کی ددی تصریح ده نوچی نکاح نه سوه صحیح نومهر وغیره واجب نه سو نوچی خاوند څه ورکړیدی هغه واپس اخیستی سی (۲). فقط

دمهر په قرضو کی یې دمهر څخه زیات جائیداد ولیکی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۲۲۹) یوسړی په خپل ژوندکی دډیر بوډاتوب په سبب چی حواسو یې کارنه کوی، په دې حالت کی ښځی ته جائیداد منقوله اوغیر منقوله دمهر په قرض کی دمهر دمقدار څخه زیات دښځی په لمسون ولیکی اورجسټر یې کړی په دی مسئله کی دشریعت څه حکم دی؟

جواب: دمهر دمقدار څخه زیات چی یې په دی حالت کی کم ورکی نوداپه حکم دوصیت کی دی نوددغه وجه څخه ناجائز دی په حکم د: لاوصیة لوارث (۳). فقط

دمهر دعویٰ په چا وسی: **سوال**: (۱۲۳۰) دهندی نکاح دزید سره په تعین دپنځو زرو روپو مهر وسوه او دنکاح جوړوونکی او ددی متعلق ټول رسمونه اداء کوونکی دزید ورور خالد اودزید مور سعیده وه زید ددی څخه وروسته بی اولاده مړسو او دزید پلار په حالت دژوند کی خپل ټول زرعی جائیداد دخپلی ښځی سعیده په نوم چی دهندی خواښی ده هبه کی صرف داوسیدو کور دهبی څخه مستثنیٰ وو چی دهغه مالکان زید، خالد، اویوه خور حمیده اوسعیده سوه، دناجوړی په حالت کی خالد دزید څخه یوبیع نامه دحصه دمکان په عوض داوو سوو روپو ولیکله حال دادی چی داحصه دډیر زیات قیمت ده اوسعیده چی دنکاح دهندی څخه مخکی ددستاویز په ذریعه په څلور روپی ماهوار ذمه وار مقرر کړی ؤ، چی دده دپاره یې یوزرعی جائیداد مقرر کړی وو اوس په دی حالت کی هنده اول دعویٰ دمهر په چا وکی خالد اوسعیده په خپله هم ذمه دار داداء دمهر دی اوکه نه؟ دوهم آیا دمهر رقم ددی حصه دکور وصولولی سی اوکه نه؟ چی کم

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۲، ط.س. ج۳ ص۵۱۷ مطلب فی النکاح الفاسد والباطل. ظ

(۲) عقد یفید المتعة ای حل استمتاع الرجل من امراة لم یمنع من نکاحها مانع شرعی فخرج الذکر والخنثیٰ المشکل الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۳۵۲، ط.س. ج۳ ص۳). ظفیر

(۳) وګوری: هدایه کتاب الوصایا ج۴ ص ۲۴۱. ظفیر

دزید وو اوپه دی حالت کی چی کمه بیعه زید په مرض الموت کی دخالد په نوم کړی وه جائزده اوکه نه؟ اوهم ددی خریداری په ذریعه به خالد اداء ددین دمهر دذمه څخه دزید متوفی کړي وی اوکه نه؟

جواب: خالد اوسعیده چی کله ضامن اومتکفل دمهر نه سوه، نوپه دوی دعوٰی دمهر نه سی کیدی، اودمکان حصه چی زید په مرض الموت کی پرخالد خرڅه کړیده نوبیع ددی صحیح سوه خوچی څومره قیمت زید دخالد څخه کم اخیستی دی نوهغه به دخالد څخه واخیستل سی اوهنده به مهر ددی څخه اخلی. اعتاقه ومحاباته الخ حکمه کحکم وصیة لاوصیة لوارث (۱). فقط

دمهر چی کم مقدار دنکاح په وخت وښوول سو دا ضروری دی اوکه هغه چی کم په پټه رجسټر سویدی: **سوال**: (۱۳۳۱) په نکاح نامه کی بالفرض دمهر مقدار یولك روپی دی، اودنکاح په وخت دپلار وکیل چی ده ته دانجلۍ پلار اوپه خپله انجلۍ هم اختیار دنکاح مکمل ورکړیدی، صرف دزرو روپو مهر حکم وکی اونکاح تړونکی هم په وخت دنکاح زر روپی مهر مقرر کی اوټولو حاضرینو دمجلس واوریدل او دنکاح نامه دمهر رقم بالکل پټ وساتل سو اوس پوښتنه داده چی کم مهر واجب دی؟ چی کم په نکاح نامه کی دی اوکه یاهغه چی دکم اظهار په مجلس کی وسو؟

جواب: دمهر مقدار هغه معتبردی چی کم نکاح خوان په وخت دنکاح تړلو ښکاره کړیدی اوچی کم مهر خاوند واوریدی اوقبول یي کی اوحاضرینو دمجلس واوریدی ځکه چی مهر هغه واجبیږی چی کم دعقد په وخت ذکرسی اوچی کمه دنکاح عقد باندی سوی دی. قال فی الدرالمختار وتجب العشرة ان سماها اودونها ویجب الاکثر منها ان سمی الاکثر الخ ویتاکد عند وطی اوخلوة صحت الخ درمختار قوله ویتاکد ای الواجب من العشرة او الاکثر وافاد ان المهر وجب بنفس العقد مع احتمال سقوطه بردتها الخ (۲). شامی.

مهر معجل چی کم مقرر سویدی اوخاوند یي ورنه کی نوښځه دپلار کره تللی سی اوکه نه؟ او خاوند قید کیدی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۳۲) زید دهندی سره نکاح وکړه اومهر معجل یي مقرر کی، خوسره دمقرروالی دمهر معجل څخه زید مهر نه اداء کوی اوقسما قسم بهانی کوی په دی صورت کی چی ترڅو زید مهر ورنه کړی نوقید کیدی سی اوکه نه؟ اوکه هنده دوالدینو کره ولاړه سی نوڅه قباحت خونسته؟

جواب: دمهر دمعجل کیدو په صورت کی که خاوندسره دمالدارتیا په مهر کی تاخر کوی

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الوصایا باب العتق فی المرض ج۵ ص۵۹۲، ط.س. ج۶ ص ۶۷۵. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴ ، ط.س. ج۳ ص۱۰۲. ظفیر

نو په طلب دښځې بندیدی سی اوپه درمختار کی دی، چی که ښځه دمهرنه رسیدو په سبب دپلار کره ولاړه سی نونفقه نه ساقطیږی. اوناشزه نه ده. اوامتنعت للمهر الخ لا ای لانفقة الخ لخارجة من بيته بغير حق الخ وفی الشامی قوله بغير حق ذكر محترزا بقوله بخلاف ما لوخرجت الخ وكذا هواحتراز عما لوخرجت حتى يدفع لها المهر (١) الخ.

ښځې مهر معاف کی ددی دمرګ څخه وروسته مور او پلار يې طلب کوی نوڅه حکم دی؟

سوال: (۱۲۳۳) هندی بالغی دپنځلسوکالو دشاهدانوپه مخکی خپل خاوندته مهرمعاف کی اوس دمرګ دهندی څخه وروسته مور وپلار يې دمهر مطالبه کوی اووايي چی هنده نابالغه وه ددی معاف کول معتبر نه دی، نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: هنده چی کله دپنځلسو کالو بالغه وه نوددی معاف کول دمهر صحيح دی اودمور وپلار مطالبه دمهر دخاوند څخه صحيح نه ده. (٢) فقط

دمهر معاف کولو څخه وروسته ددی انکار کول څنګه دی؟ **سوال**: (۱۲۳۴) که چيري ښځه مهرمعاف کی اوبيا انکار وکی نوڅه حکم دی؟

جواب: ښځه که مهر معاف کړی اوبيا انکار وکی نودابه نه اوريدل کيږی مهر معاف سو .(٣)

په پنځلسو زرو کی پنځه زره معجل اوباقی موجل نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۲۳۵) يوه نکاح نامه ليکل سويده چی په هغه کی پنځلس زره مهر په لاندينی عبارت ليکلی دی قرض مهر معجل پنځلس زره روپی ګرځول کيږی، چی په دی کي پنځه زره روپی په حق دښځې دپاره دکور دسامان اودزيوراتو اداء سو اوباقی لس زره روپی به په خپل ژوند کی ښځې موصوفي ته ادا کوم. مبلغ لس زره روپی مذکوری به شرعا دمعجل په تعريف کی وی اوکه دموجل؟ اوکه موجل وی نوبيان دی وسی چی موجل په څو اقسامو دی؟ او داصورت په کم قسم کی داخل دی اوپه خپل ژوند کی چي داداء کولو کمه وعده ده ددی په وجه به ښځه دخپل خاوند څخه کله هم دمذکور زر مهر يعنی لس زره روپی وصولولو مستحق کيدی سی؟

جواب: په شروع دعبارت کی په نکاح نامه کی که څه هم ټول مهر معجّل ګرځول سويدی خو وروسته تفصيل پنځه زره معجل اولس زره موجل ګرځولی دی نوددی وجه څخه لس

---

(١) ردالمحتار باب النفقة ج٢ ص٨٨٩ ، ط.س. ج٣ ص ٥٧٥. ظفير

(٢) ان حطت عنه من مهرها صح الحط لان المهر حقها والحط يلاقيه حالة البقاء (هدايه باب المهر ج٢ ص٣٠٥).

(٣) وصح حطها لكله اوبعضه عنه قبل اولا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المهر ج٢ ص ٤٢٤ و٤٢٥ ، ط.س. ج٣ ص١١٣ مطلب فی حط المهر والابراء منه). ظفير

زره موجل سو اوموجل الی الطلاق یا الی الموت صحیح دی په درمختار کی دی: الا التاجیل لطلاق اوموت فیصح (۱) الخ. اوپه شامی کی دی چی دطلاق سره موجل هم معجل کیږی: وبالطلاق یتعجل المؤجل (۲). فقط

دانجلۍ والاوو په وخت دنکاح روپۍ اخیستل څنګه دي؟ **سوال**: (۱۲۳۶) په وخت دنکاح علاوه دتعین مهر څخه انجلۍ والا دهلك والا څخه څه اخلی دااخیستل جائزدی اوکه نه؟ اودا په قرض دمهر کی شاملیدی سی اوکه نه؟

جواب: داسی رقم ته فقهاء رشوت وایي، اوواجب الرد دی. کمافی الدرالمختار اخذ اهل المرأة شیئا عند التسلیم فللزوج ان یسترده لانه رشوة (۳). اوچی کله یي دمهر نوم وانه خیستی نودابه په مهر کی شمارنه وی. فقط

دخلوت څخه وروسته که ښځه نافرماني هم کوی نو دطلاق څخه وروسته به تمامه پر واجب وي: **سوال**: (۱۲۳۷) زیددخپلی منکوحی هنده څخه دنکاح څخه وروسته فائده واخیسته څو ورځی وروسته هنده ناشزه اونافرمانه سوه اودمباشرت څخه یي انکار وکی سره ددی چی زید په مباشرت اوپه جماع علی وجه التام قادر دی، خوهنده دزید داطاعت څخه منکر ده که زید هندی ته طلاق ورکړی نوپه زید به کل مهر واجب الاداء وي اوکه بعض، هندی دعقد په دوران کی داشرط کړی وو که زما داجازی څخه بغیر دبلی ښځی سره نکاح وکړی نوزما طلاق به زما په اختیار کی به وی که اختیار کړم نوټول مهر به ورکول وی، زید که دوهمه نکاح نه کوی په زنا کی مبتلاء کیږی په دی صورت کی شرعا څه حکم دی؟

جواب: چی کله خلوت صحیحه وسی نودزید پرذمه ټول مهر واجب الاداء سو زید که هندی ته طلاق ورکوی نوپوره مهر به پرزید باندی اداء کول وی که هنده داشرط کوی اوکه نه؟ زید به مهر ورکوی (۴) خوپه دوهمی نکاح سره داشرط خارج نه دی دوهمه نکاح دی وکړی چی کله دمهر ورکولو طاقت یی وی، مهر دی اداء کړی، هکذا فی الدر المختار.

دښځی دوفات څخه وروسته ددی مهر څنګه اداء سی؟ **سوال**: (۱۲۳۸) چی دکمی ښځی خاوند په سفرکی وی اوداښځه مړه سی اومهر نه وی اداسوی نومهر به څنګه اداء کیږی؟

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۳. ط.س. ج۳ ص ۱۴۴. ظفیر
(۲) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۳. ط.س. ج۳ ص ۱۴۴. ظفیر
(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۵۰۳ ، ط.س. ج۳ ص ۱۵۷. ظفیر
(۴) والخلوة الخ کالوطی الخ فی ثبوت النسب الخ وفی تاکید المهر المسمیٰ (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب المهر مطلب فی احکام الخلوة ج۲ ص۴۲۵، ط.س. ج۳ ص۱۱۴). ظفیر

جواب: په قدر دحصه دنورو وارثانو دښځی وارثانو ته به مهر ورکول سی. ([1]) فقط

دشرعي مهر څه مقدار دی؟ **سوال**: (۱۲۳۹) دشرعی مهر څه مقدار دی؟

جواب: لس درهمه دی اویودرهم تقریبا (۴-۱) به وی نولس روپی قریب پاؤکم دری روپی سوی. ([2]) فقط

په تجدید دنکاح کی مهر ضروری دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۴۰) په تجدید دنکاح کی تعین دمهر ضروری دی اوکه نه؟

جواب: ضروری دی. ([3]) فقط

ښځه چی کله مهر معاف کړی نومعاف به وی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۴۱) زماسکه وررور عبد الوهاب مړسو ما دمرحوم ښځی ته وویل، چی ستاحق دمهر دهغه په ذمه دی که ته مهر اخیستل غواړی نومونږ درکولو ته تیار یو کنې نو معاف یې کړه مذکوره ښځی دخاندان ددوو شاهدانو په مخکی وویل چی زه یې معاف کوم په دی صورت کی مهر معاف سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی مهر معاف دی عندالله څه مواخذه دمهر دعبدالوهاب مرحوم په ذمه نسته. ([4]) فقط

دمهر معاف کولو څخه وروسته اخیستل اوپه عده کی نکاح کول څنګه دی؟ **سوال**: (۱۲۴۲) یوسړی خپلی ښځی ته طلاق ورکی اوښځی مهر معاف کی اوپه عده کی دننه ښځی بل عقد وکی اودخپلو څو ملګرو په لمسون یې په خاوند دمهر دعویٰ په عدالت کی وکړه اوددرواغو ثبوت یې راوړی اوډګری یې حاصله کړه اودمعافی دتحریر څخه منکره سوه اوطلاق هم په دی شرط وو چی حق دمهربه معاف وی نوپه دی صورت کی دمهر دمعافی څخه انکار کول دطلاق په باره کی به موثر وی اوکه نه؟

([1]) که بچی نه وی نودښځی دنیم مهر حقدار به په خپله خاوند وی، اوباقی نیم به دښځی دنورو وارثانو وی اوکه بچی وی نوخاوند دڅلورمی حصی حقداردی اونوره حصه به ددی دبچو اوددی دمور اوپلار وی، والله اعلم. ظفیر

([2]) واقل المهر عشر دراهم الخ ولنا قوله ﷺ ولامن اقل عشرة دراهم، هدایه باب المهر ج۲ ص۳۰۳ و۳۰۴. په تخریج زیلعی کی یې دا الفاظ لیکلی دی: ولامهر دون عشرة دراهم، (حاشیه هدایه ایضا)، یو درهم په سنه ۱۳۳۲هـ کی په ۱۴ وو اوس زمونږ په زمانه کی سپین زر ډیر ګران دی چی دپاوکم شپږ روپی څخه توله کمه نه ورکول کیږی اولس درهم دوی تولی اونیمی ماشی وی چی په دی حساب سره ددی قیمت څوارلس نیمی روپی کیږی. دسپینو زرو دقیمت په کمی او زیاتی سره ددرهم قیمت کمیږی اوزیاتیږی. والله اعلم. ظفیر

([3]) ثم المهر واجب شرعا ابانة شرف المحل (هدایه باب المهر ج۲ ص۳۰۳). ظفیر

([4]) وان حطت عنه من مهرها صح الحط لان المهر حقها والحط یلاقیه حالة البقآء (هدایه باب المهر ج۲ ص۳۰۵) وصح حطها لکله او بعضه عنه قبل اولا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۴، ط.س. ج ۳ ص۱۱۳ مطلب في حط المهر والابراء عنه). ظفیر

جواب: په دی صورت کی دخاوند دطرفه طلاق وسو اودښځی دطرفه مهر معاف سو بیا دښځی دمهر دمعافی څخه منکریدل اوددرواغو شاهدی په عدالت کی وړاندی کول او دمهر ډګری اخیستل ظلم دی پرطلاق به ددی هیڅ اثر نه وی، طلاق واقع سو اومهر عند الله معاف دی، دښځی مهر وصولول ناجائز اوحرام دی اوپه عده کی دننه دبل سړی سره نکاح کول حرام اوباطل دی اونکاح ونه سوه [1] اوچی کم خلګ په دی نکاح کی کوشش کوونکی دی دحرام فعل مرتکب اوفاسق سوه، قال الله تعالی: ولاتعزموا عقدة النكاح حتٰی یبلغ الكتب اجله، الاية [2]. فقط

چی مهر معجل وی نو دانجلۍ پلار دا دپولی ورکولو څخه مخکی وصولولی سی: سوال:

(۱۲۴۳) دزید دلور سره دعمر دزوی په دوه زره روپی مهر معجل عقد وسو دزید لور نابالغه ده عمر یي یوولس کاله دی اوس دعمر زوی دزید لور ودول غواړی نوزید وایي چی ترڅو دوه زره روپی مهر معجل اداء نه کړی نوتر هغه به واده درنه کړم ایا زید ته دخپلی لور دمهر معجل وصولولو حق سته اوکه نه؟ او ددواړو څخه څومره مخکی زید لره دمهر معجل وصولولو حق سته اوکه نه؟ او دودولو څخه څومره مخکی زید لره مهر معجل اخیستل پکاردی او دودولو څخه وروسته څومره؟ اودمهر معجل دنه اداء کولو سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: زید ته دخپلی نابالغی لور دمهر معجل وصولو حق حاصل دی په درمختارکی دی: ولها منعه من الوطی ودواعیه والسفر الخ لاخذ مابین تعجیله وفي الشامي قوله ولها منعه الخ وكذا لولي الصغيرة المنع المذكور قوله والسفر الأولى التعبير بالإخراج كما عبر في الكنز ليعم الإخراج من بيتها، [3] اوچی کله ټول مهر معجل مقرر سو نوزید دټول مهر مطالبه دانجلۍ دودولو څخه مخکی کولی سي اونکاح صحیح ده. فقط

دیوی ښځی مهر پنځه زره دی اودبلی ښځی پنځه زره دی اودبلی ښځی پنځه سوه دکم والا زیاتول څنګه دی؟ سوال: (۱۲۴۴) زید دهندی سره په پنځه زره روپی مهر نکاح وکړه ددی څخه ډیره موده وروسته دبلی ښځی زینب سره په پنځه سوه روپی مهر باندی نکاح وکړه اودواړو ته یي مهر هم اداء کړی زینب یوه ورځ ارمان وکی چی تازما مهر ډیر کم مقرر کړیدی، زید ددی دزړه دپاره داسی وکړل چی ددی په مهر کی یي دری څلور سوه

---

[1] اما نكاح منكوحة الغير فلم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵، ط.س. ج۳ ص۵۱۲ مطلب في النكاح الفاسد والباطل). ظفير

[2] سورة البقرة ، رکوع ۳۰. ظفير

[3] وګوری ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۲، ۴۹۳. ط.س. ج۳ ص ۱۴۳، ۱۴۴. ظفير

نوری هم زیاتی کړی ځکه چی زیادت بعد العقد هم داصل سره په تصریح دفقهاؤ ملحق کیږی دری سوه څلور سوه دیته نوری هم ورکړم که نقد وی اوکه دیو مکان څه حصه وی چی زینب ته فی الحال ددی حصې دمکان ضرورت هم دی خو زید ته په دی کی دا تردد دی چی څنګه په تمامو حقوقوکی ددواړو ښځو په مینځ کی برابروالی ضروری دی نو هسی نه چی دازیاتوالی دمهردیوه دپاره خلاف دعدل نه وی دازیاتوالی دمهر دیوه دپاره جائزدی اوکه نه؟ که څه صریح دلیل نه وی نوڅه کلیه شافی کافی سته اوتصریح فقهی که پیدا سی نواقرب الی الاقناع ده!

جواب: موافق ددی قاعده فقهیه چی زیادت فی المهر بعد العقد ملحق باصل المهر دی اوهبه مبتدءه نه ده. کما یقول به الامام زفر رحمه الله زیادة فی المهر احدی الزوجان صحیح ده، خصوصا دهغه ښځی په مهر کی زیاتی کول چی دهغه مهر داصل څخه کم وی اواضرار دزوجه ثانیه مقصود نه وی اودا حیله دترك عدل وتسویة بین الزوجات چی واجب دی جوړه نه کړی نو داخلاف دعدل نه ګرځی، دفتح القدیر دلاندینی جزئیه څخه دامفهوم کیدی سی چی زیادت فی المهر که په طریقه درشوت نه وی نوصحیح دی دده عبارت دادی: وإن رضيت إحدى الزوجات بترك قسمها لصاحبتها جاز هذا إذا لم يكن برشوة من الزوج بأن زادها في مهرها لتفعل أو تزوجها بشرط أن يتزوج أخرى فيقيم عندها يومين ([1]) الخ. اودعنایه داعبارت هم جواز ته اشاره کوی: قوله خلاف الزفر فانه يقول الزيادة هبة مبتدأة لاتلحق باصل العقد ان قبضت ملكت والا فلا الخ ([2]). ددی څخه معلومه سوه چی ائمه ثلاثه زیادت هبه مبتدئه نه ګرزوی چی دیته خلاف عدل وویل سی ځکه چی داتصریح ده چی په هباتوکی هم تسویه بین الزوجات ضروری ده کمافی العینی علی البخاری وتمام العدل ایضاً بين تسويتهن فی النفقة والكسوة والهبة ونحوها ([3]).

ښځی لره دمهر دوصولولو حق سته اوکه نه؟ سوال: (۱۲۴۵) منکوحه دخپل خاوند څخه په مقرره مهر چی کله هم وغواړی نوطلب کولی سی او وصولولی یې هم سی اوکه نه؟

([1]) فتح القدير باب القسم ج۲ ص۳۰۳ ، مكتبة حبيبيه ، كوئته ج۳ ص۳۰۳. ظفير

([2]) عنايه على هامش فتح القدير باب المهر ج۲ ص۲۱۴ ، ط.س. ج۳ ص۳۰۳. ظفير

([3]) عمدة القارى شرح صحيح البخارى ج۹ ص ۵۰۰. ظفير

جواب: مهر که معجل وی نوښځی لره هروخت ددی دوصولولو حق سته اوکه موجل وی نو دطلاق ځخه وروسته مطالبه کولی سی. کذا فی کتب الفقه ([1]). فقط

دنابالغی انجلۍ ولی مهر کمولی سی اوکه نه: **سوال**: (۱۲۴۶) دنابالغی انجلۍ ولی دانجلۍ نکاح په زر ۱۰۰۰ روپی مهر وکړه دنابالغ هلك پلار منظور کړه نودانجلۍ ولی مهر کمولی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: وصح حطها لکله اوبعضه عند قبل اولا الخ قال فی الشامی، وقید بحطها لان حط ابیها غیر صحیح لوصغیرة الخ ([2]). ددی ځخه معلومه سوه چی دنابالغی ولی ته دمهر دکمولو اختیار نسته. فقط

که دیوی ښځی دشپږو میاشتو ځخه په کمه موده کی بچی پیدا سو نوآیا بیابه هم دامهر اخلی؟ **سوال**: (۱۲۴۷) دجمادی الثانی په اوله عشره کی دهندی نومي ښځی عقد دبکر نومي سړی سره وسو چی تقریبا تردوو میاشتو پوری دادخپل خاوند سره وه دذی قعده په آخری عشره کی دمذکوره ښځی بچی پیداسو خوکمزوری وو اوژوندی دی، په داسی حالت کی مذکوره ښځه دپوره مهر حق لري اوکه نه؟ اودبچی پالنه دخاوند پرذمه ده اوکه نه؟

جواب: چی کله دهندی سره بکر خلوت اوصحبت وکی نودبکر پرذمه پوره مهر لازم سو ځکه چی نکاح په دی صورت کی صحیح ده اواصل دادی چی صرف په نکاح سره مهر لازمیږی، خواحتمال دسقوط پکښی سته چی کله خاوند وطی یاخلوت صحیحه وکړی نوټول مهر واجب الاداء کیږی. په ردالمحتار کی دی: وافاد ان المهر الخ انما یتاکد لزوم المهر بالوطی ونحوه ([3]) الخ. اوبچی دنکاح دوخت ځخه په کم دشپږو میاشتو کی پیدا سویدی، نوددی وجه ځخه دبکر ځخه نسب ددی ثابت نه دی دبکر په ذمه ددی دپالنی وغیره حق سته په درمختار کی دی: واقلها ستة اشهر اجماعا الخ ([4]). فقط

چی ښځه مړه سی نومهر لازم دی اوکه نه؟ اودابه چاته ورکول کیږی؟ **سوال**: (۱۲۴۸) هنده دزید ښځه ناګمانه بی دمعافی کولو دمهر ځخه مړه سوه نوپوښتنه داده چی:

([1]) ولها منعه من الوطی ودواعیه الخ لاخذ ما بین تعجیله من المهر کله او بعضه او اخذ قدر ما یعجل لمثلها عرفا به یفتی الخ الا التاجیل لطلاق او موت (درمختار) وفی الخلاصة وبالطلاق یتعجل الموجل ولو راجعها لا یتاجل (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۳، ط.س. ج۳ ص۱۴۳ مطلب فی منع الزوجة نفسها لقبض المهر). ظ

([2]) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۴، ط.س. ج۳ ص ۱۱۳ مطلب فی حط المهر والابراء منه. ظفیر

([3]) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴ فلو لا لاقل من ستة اشهر من وقت النکاح لایثبت النسب ولایرث منه (ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۴۰۱، ط.س. ج۳ ص۴۹ قبیل مطلب فیما لزوج الموالی امته). ظفیر

([4]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۷۵۷، ط.س. ج۳ ص۵۷۰. ظفیر

۱. دهندی په لوړ مذکوره صورت کی په مرګ سره زید دهندی دمهر څخه خلاص سو او که نه؟ اومهر دده څخه ساقطیږی اوکه نه؟
۲. که زیدبغیر داداء کولو دمهرڅخه نه سی خلاصیدی نومهربه دهندی وارثانوته ورکول کیږی اوکه فقیرانو ته؟
۳. دشریعت په بناء دهندی وارثان ددی پلارګنی ده اوکه خسرګنی اوکه ددی اولاد؟
۴. که دهندی دمهر حقدار ددی اولاددی نودوی خوهسی هم دزید دمال به بیا حقداروی؟
جواب: ۱. نه خلاصیږی مهر دده پرذمه په شان دنورو قرضونو پاته دی هیڅ وجه یې دساقطیدو نسته ([1]).
۲. دهندی وارثانو ته ملاویدل په کاردی ([2]).
۳. چې دهندی اولاد سته نوځلورمه حصه ددی دخاوند ده اوباقی داولاد وغیره
۴. که بیا وی نودادلیل داولاد څخه دوارث کیدو په څه دی؟ علاوه ددی څخه داویل هم صحیح نه دی چې دزید مال بیاهم ددوی دی، بی شکه اولاد هم دزید دمال وارث دی خو داضروری نه ده چې صرف اولاد دی وی اوبل چاته به په دی کی حق نه وی که نور وارثان وی نوهغوی ته به پکښې هم حق وی اودا ټول دزید دمرګ څخه وروسته دی. فقط

دښځې داویل چې که زما سره هم بستري سوي وي نو دخپلې مورسره به یې سوي وي، طلاق نه دی، خوکه طلاق هم وي نومهر هم ضروري دی: **سوال**: (۱۲۴۹) یوې ښځې دیوې خبرې دکش مکش په دوران کې خپل خاوند ته وویل چې که ته زما سره هم بستر سوې نو ګویا چې دخپل مور اوخور سره همبستر یې، خاوند همبستري پرې ښوولو اوطلاق ورکولو ته آماده دی، که طلاق ورکړي نومهر به لازم وي اوکه نه؟
جواب: په دی صورت کی ددی سړی پرښځې طلاق نه دی واقع دښځې په ویلو سره هیڅ نه کیږی که دی ښځه ساتل غواړی نوساتلې یې سی اوکه طلاق ورکول غواړی نوطلاق دی ورکړی اوکه طلاق ورکړی نومهر اداء کول به لازم وی ([3]). فقط

([1]) دا چې یا زوج مهر ادا کړي یایې ښځه ورمعاف کړي دلته په دې دوو کې یو صورت لا هم نسته، پاته سو مرګ نوپه هغه سره خو مهر نور مؤګد کیږي: تجب العشرة ان سماها او دونها ویجب لاکثر منها ان سمی الاکثر ویتأکد عند وطؤ او خلوة صحت من الزوج او موت احدهما الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر جلد ۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۰۲). ظفیر
([2]) که اولاد یې وی نوپه څلورمه حصې کی نیمه به دخاوند وی باقی به دنورو وارثانو وی نویا خوبه یې ادا کوی او یابه یې ددوی څخه معاف کوی. ظفیر
([3]) ویتاکد ای المهر عند وطی اوخلوة صحت الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص ۱۰۲). ظفیر

دپولي ورلو څخه مخکي خاوند مړسي نوڅومره مهر ورکول به وي؟ سوال: (۱۲۵۰) په هندوستان کی دستور دی چی کله نکاح دبالغه اودبالغي وسی اودواده کولو نیټه تاریخ مقرر سی نوپه داسی صورت کی که خاوند دواده څخه مخکی مړسی نوښځی ته به څومره مهر ورکول کیږی؟

جواب: په دی صورت کی مهر پوره واجب دی لکه چی په درمختار کی دی: ویتاكد عند الوطی اوخلوة صحت اوموت احدهما الخ [1]. فقط

ښځه وايي چی خاوند داکور په مهرکی راکړیدی او وارثان انکار کوی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۵۱) زید اوعمر دوه سکه ورونه دی اودوی په جلا ښارونو کی اوسیږی عمر دخپل پلار پرجایداد قابض دی دزید ددی سره هیڅ څه کار نسته، زید خپل ذاتی مکان په بل ښار کی واخیستی دزید ښځی ته بکر دوه کاله دنکاح پیغام ولیږی دزید ښځی دبکر سره دنکاح څخه انکار وکی اودعظیم سره یي نکاح وکړه دعظیم اودبکر دمخکی څخه ورانه وه اوپه نکاح سره ورانی نورهم زیات سو. چی کله دزید دښځی دنکاح ثانی اطلاع عمر اوزوم دبکر ته وسوه نودوی دواړه دزید کورته راغلل اودده ښځی ته یي وویل چی کورخالی کړه ځکه چی تاخپله نکاح کړیده اوس ستا په دی کورکي څه حق نسته دزید پخوانی ښځی وویل چی داکور زما خاوند زماپه مهر کی راکړیدی زه په دی قابضه یم نو په دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: شرعی کافی شاهدی دیوه طرفه هم نه ده راغلي نه پراداء دمهر اونه دکور په مهر کی پرورکولو ځکه چی داداء دمهر شاهد صرف بکردی، اویوسړی که څه هم ثقه هم وی ددې یوه شاهدی شرعًا نه معتبریږی [2] پردی څه حکم شرعی نه سی کیدی اودلته خو ددی وجه څخه هم مخدوش اوناقابل اعتباردی چی عداوت دده ښکاره دی او دکور په مهر کی دورکول کیدو هم ثبوت نسته ځکه چی داصرف دښځی بیان دی، خوچی شرعی قاعده ده چی دمیت دترکه څخه به اول قرضونه وغیره اداء کیږی سی اوچی څه باقی پاته سی نوهغه به وارثانو ته ورکول سی اومهر هم یو دقرضو څخه دی پرذمه دخاوند اودمهر اداکول ثابت نه دی، اوښځی مدعی دمهر ده نوددی وجه څخه ددی مهر به اول اداء سی اوکه ماسوا دکور څخه یي بل څه نه وی پرینبی نوبیا دسرای څخه دی مهر ورکول سی اووارثانوته داهم اختیاردی چی مهر دخپل ځان څخه ادا کړی اومکان په قدر دخپلی [3]

---

(1) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۰۲. ظفیر

(2) ونصابها لغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا اوغیره کنکاح وطلاق ووکالة ووصیة الخ رجلان الخ اورجل وامراتان (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارکتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۵ و۵۱۲.ط.س. ج۵ ص۴۶۵). ظفیر =

حصی دځان سره وساتی اودمهر څخه علاوه اتمه حصه دښځی دمیراث په طریقه ده اوپه نکاح ثانی کولو سره ددی مهر اوحصه دمیراث نه ساقطیږی. فقط

دمهر دمعافی دوه شاهدان دی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۵۲) هندی خپل خاوند خالد ته په ناجوړی کی خپل مهر دالله ﷻ دپاره معاف کی ددی واقعی دوه شاهدان داشاهدی ورکوی چی قادر بخش وایي چی زه دمهر بخښلو شاهد یم چی خالد وویل دالله ﷻ دپاره می معاف کی، فاضل وایي چی هندی وویل دخدای دپاره مامهر معاف کی نودا شاهدی کامله ده اوکه ناقصه؟

جواب: داشاهدی کافی ده خوکه دواړه شاهدان عادل وی (۱) خوپه مرض الموت کی هبه کول اوقرض معاف کول په حکم دوصیت (۲) دی، اووصیت دوارث دپاره صحیح نه دی نوددی وجه څخه په مرض الموت کی معاف کول به معتبر نه وی خوکه نور وارثان راضی وی نودوارث دپاره وصیت صحیح کیږی اووصیت به په یوثلث کی جاری وی په دی کی هم که وارثان راضی وی نودثلث څخه په زیاتو کی هم جاری کیدی سی (۳). فقط

معر معجل اوموجل په وصول کی یو دی اوکه بیل ؟ سوال: (۱۲۵۳) ایامهر معجل اوموجل دکوروالی څخه وروسته دادا کولو په صورت کی په یوه حکم دی اوکه نه؟ یعنی ښځه دواړه قسم مهر اخیستی سی پوره اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ویتاکد عنه وطی اوخلوة صحت من الزوج اوموت احدهما (۴) الخ. په شامی کی دی: افاد ان المهر وجب بنفس العقد لکن مع احتمال سقوطه بردتها اوتقبیلها ابنه او تنصفه بطلاقها قبل الدخول وانما یتاکد لزوم تمامه بالوطی ونحوه الخ (۵). ددی روایت څخه معلومیږی چی په دخول اوپه وطی سره مهر موکد کیږی دسقوط اودتنصیف احتمال نه پاته کیږی بلکه پوره مهر دخاوند پرذمه واجب اولازمیږی

---

(۳) تتعلق بترکة المیت حقوق اربعة مرتبة الاول یبدأ بتکفینه وتجهیزه من غیر تبذیر ولا تقصیر ثم تقضی دیونه من جمیع ما بقی من ماله ثم تنفذ وصایاه من ثلث ما بقی بعد الدین ثم یقسم الباقي بین ورثته (سراجی ص۵ و۷).

(۱) ونصابها لغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا اوغیره الخ رجلان الخ اورجل وامراتان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ج۴ ص ۵۱۵. و۵۱۲. ط.س. ج۵ ص ۴۶۵). ظفیر

(۲) اعتاقه ومحاباته وهبته ووقفه وضمانه کل ذالك حکمه کحکم وصیة فیعتبر من الثلث کماقدمنا (درمختار) قوله محاباته ای فی الاجازة والاستجار والمهر والشراء الخ (ردالمحتار کتاب الوصایا باب العتق فی المرض ج۵ ص۵۹۲. ط.س. ج۶ ص ۶۷۹). ظفیر

(۳) لا لوارثه وقاتله الخ الا باجازة ورثته لقوله ﷺ لاوصیة لوارث الا ان یجیزها الورثة یعنی عند وجود وارث اٰخر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب کتاب الوصایا ج۵ ص ۶۷۵. ط.س. ج۶ ص ۶۵۶). ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۰۲. ظفیر

(۵) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴. ط.س. ج۳ ص۱۰۲. ظفیر

خومعجل مهر ښځه سمدستي وصولولی سي اودخاوند پرذمه ددي اداء کول سمدستي لازم دي اودموجل مهر دوصول وخت طلاق یامرګ دی ددي څخه مخکي ښځه مهر موجل نه سي وصولولی (۱). کمامر

په مهر مثل کي به دچا اعتبار وي؟ **سوال:** (۱۲۵۴) زید دیوی ښځي سره نکاح وکړه ددي څخه دوي انجوني پیداسوي، دانښځه مړه سوه ددي څخه وروسته زید ددي دخور سره واده وکي ددي څخه څلور انجوني پیداسوي دزید دمخکي ښځي دمخکي لور سره عمر نکاح وکړه نودامړه سوه ددي نکاح څخه پنځه دیرش کاله وروسته عمر ددي دوهمي سکه خور سره په مهر مثل نکاح وکړه عمر ته دخپلي مخکي ښځي (دزید دمخکي ښځي دخور) مهر یادنه دي اونه په رجسټر دقاضي کي درج دي اونه څه شاهدي باقي ده دزید ددوهمي ښځي چي کمي څلورلوني دي دهغوي مهریوه نیمه یوه روپي دي دعمر ددوهمي ښځي مهر مثل به څه وي؟

جواب: دعمر ددوهمي ښځي چي کم سکه خور دمخکي ښځي ده نوچي کم مهردده دښځي دي نوهغه به دمخکي ښځي مهر مثل وي نوچي کله په شاهدانو سره څه مقدار دمهر ثابت نه دي چي کم مهر دده ددي ښځي دي هغه دپخواني ښځي به هم وي اوکه په دي کي جګړه وي نو دمیریزیو خویندو دمهر اعتبار به وي (وفي الخلاصة ویعتبر باخواتها وعماتها الخ) درمختار (۲) (نوچي یادنه دي چي ددي دمیریزیو خویندو مهر دده دښځي هم مهرمثل شي چي دپلار دخاوندان مهر، مهرمثل دي ، ظفیر)

مطلق مهربه درواج مطابق مؤجل ګرځول کیږي او دښځي دپاره دنان اونفقي دعوٰی جائزده:

سوال: (۱۲۵۵) دبالغي هندي نکاح دزید سره په پنځه زره روپي باندي وسوه اواظهار دمؤجل یا دمعجل ونه شوعام رواج دهنده دخاندان مهر مؤجل دي اوس هنده چي په وجه دنا اتفاقي دخاوند مطالبه دمهر کوي نوایا په نا اتفاقي اوپه جدایي کي بی له طلاقو چي دپنځو شپږو میاشتو وروسته تر نکاح سویدي چي تقریبًا پنځه کاله وسوه، نوحکم دموجل لري اوکه نه؟ اوپه صورت دنه ساتلو دحکم داجل په صورت موجوده کي هنده مطالبه دمهر کولی سي اوکه نه؟ اوهنده په حیثیت دخپل خاوندنان اونفقه دعوٰی کولی

---

(۱) لوکان المهر موجلا لیس لها المنع قبل حلول الاجل ولابعده (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۴، ط.س. ج۳ ص۱۴۴). ظفیر

(۲) والحرة مهر مثلها الشرعی مهر مثلها الخ من قوم ابیها لا امها ان لم تکن من قومه کبنت عبه وفي الخلاصة ویعتبر باختها وعماتها الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر مطلب فی بیان مهر مثل ج۲ ص ۴۸۷ ، ط.س. ج۳ ص ۱۳۷). ظفیر

سی اوکه نه؟ اوکه هنده په مجاز عدالت کی دعوىٰ ددی وکړی چی یادی طلاق راکړی او یا دی حقوق دزوجیت اداء کړی نوشرعا ورته اختیار حاصل دی اوکه نه؟ اوګنهګار خوبه نه وی؟

جواب: په داسی حالت کی مهر موجل ګڼل کیږی او داجل اداء به په مرګ دخاوند یاپه طلاقو وی (۱) اوچی کله خاوند حقوق دښځی نه ادا کوی نوښځه دخپلو حقوقو اونفقی دعوىٰ کولی سی پرخاوند باندی واجب دی چی یا خودی حقوق دښځی اداء کړی اونان اونفقه دی ورکړی کنې نو طلاق دی ورکړی. قال الله تعالیٰ: فامساك بمعروف اوتسريح باحسان (۲). ددی حاصل دا دی چی یا خو دی ښځه وساتی کنې نو طلاق دي ورکړی او دطلاقو څخه وروسته ښځه دمهر دوصولولو دعوىٰ کولی سی اونفقه بقدر حالها بين بين دخاوند پرذمه واجب ده، داپه ذریعه دعدالت هم حاصلولی سی اودښځی دطرفه دا کوشش چی یا خودی حقوق دښځی اداء کړی اویا دی طلاق راکړی موافق دحکم شرعی دی اوپه دی کی هیڅ ګناه نسته اونفقه درمیانه حاله پرذمه دخاوند واجب ده یعنی دښځی اودسړی ددواړو دحیثیت لحاظ به کیږی مثلا که ښځه غریبه اوخاوند غنی وي نو ددرمیانه درجی نفقه به لازمه وی. (۳) فقط

<u>مهر چی کله اشرفی وی نو داشرفی څخه به کمه مراد وی؟</u> سوال: (۱۲۵۶) دهندی نکاح دزید سره وسوه اویو سل یو اشرفی مهر وګرځول سو داشرفی قیمت مختلف کیږی، نو اوس هنده ته به مهر په کم حساب ورکول کیږی؟

جواب: په سبب دحکم المعروف کالمشروط په مهر کی به اشرفی هغه مراد وی چی مراد وی چی په وخت دنکاح کي رائج وي اوکه دمختلف وزن او مختلف قیمت اشرفی دغه وخت رائج وي نوچی دغه وخت کمي اشرفی زیات مروجی دی هغه به مراد وي، اوکه دا نه وي معلومه چي دغه وخت دکم قیمت اشرفی زياتي رائجي دي، نوچی ښځه څه وايي او ددی مکذب څوك نه وی نوددی دقول موافق ددغه اشرفی په حساب به ددی مهر مقرر

---

(۱) وإن بينوا قدر المعجل يعجل ذلك وإن لم يبينوا شيئا ينظر إلى المرأة وإلى المهر المذكور في العقد أنه كم يكون المعجل لمثل هذه المرأة من مثل هذا المهر فيجعل ذلك معجلا ولا يقدر بالربع ولا بالخمس وإنما ينظر إلى المتعارف (عالمگیری کشوری باب المهر ج۲ ص۳۳۰ طبع ماجدية ج۲ ص۱۳۸. باب المهر الباب السابع الفصل الحادی عشر). ظفير

(۲) سورة البقره رکوع ۲۹. ظفير

(۳) فتجب النفقة للزوجة بنكاح صحيح الخ على زوجها الخ بقدر حالهما به يفتى (درمختار) كذا في الهداية وهو قول الخصاف وفي الولوالجية وهو الصحيح وعليه الفتوى (ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۸، ط.س. ج۳ ص ۵۷۱). ظفير

سی. فقط

چي خاوندل مفلس وي نوعدالت مهر کمولی سی؟ سوال: (۱۲۵۷) دزيد نکاح دمريم نومي ښځي سره په پنځه سوه روپۍ وسوه دمريمي په نکاح نامه کي پنځه سوه روپۍ مهر په وخت دنکاح وليکل سو، څه موده وروسته په دواړو کی تنازع پيدا سوه دمريم دطرفه دپنځوسو روپو دمهر په عدالت کي دعوه دائره سوه، عدالت په ابتدائي تحرير دنکاح نامه ډګري وکړه خوعدالت دسيشن او دچيف کورټ بغير درضا دمريمي چي مدعيه ده پرځای دپنځوسوو روپو مهر دوديرش ۳۲ روپۍ او شپږ آني په وجه دمفلسی او غريبی دمدعا عليه قائم کړی، باقي رقم دمهر يې خارج کړی، نو ددې شرعا څه حکم دی؟

جواب: شرعاً دوطی څخه وروسته پوره مهر لازميږي په شامي کي دي: وافاد ان المهر وجب بنفس العقد لکن مع احتمال سقوطه بردتها الخ (١) وانما يتاكد لزوم تمامه بالوطی ونحوه الخ (٢) اوکه خاوند مفلس هم وي نومهر نه ساقطيږي بلکه مؤخر کيږي نو بالکل ساقطول اويا کمول دشرعي حکم خلاف دي. (٣) فقط

دنبي کريم ﷺ دلوڼو او دبيبانو مهر څومره ؤ؟ سوال: (۱۲۵۸) دحضرت فاطمه رضی الله عنها اودنورو لوڼو او دبيبانو مهر څه وو او ددې وخت په رائج الوقت سکه انګريزي سره په څه انداز دي؟

جواب: پنځه سوه درهمه وو چي تقريباً يوسل او پنځه ويشت روپۍ جوړيږي. (۴) فقط

په مهر کی دنبی کريم ﷺ مطابقت افضل دی اوکه په اعتبار دخپل حيثيت؟ سوال: (۱۲۵۹) امير کبير که په مهرکی دنبی کريم ﷺ دلوڼو اودازواجو مطهراتو مطابقت وکړی نودا افضل دی اودخير اودبرکت سبب دي؟ اوکه په اعتبار دحيثيت داميرانوديارہ مهر افضل اوموجب دخير وبرکت دی؟

جواب: زيات مهرمقررول ښه نه دی ګڼل سوی ځکه چی راغلی دی: لاتغالوا صدقة النساء

(١) و(٢) ردالمحتار باب المهر ج٢ ص۴۵۴، ط.س. ج٣ ص١٠٢. ظفير

(٣) قال في البدائع واذا تأكد المهر بما ذكر لا يسقط بعد ذلك الا بالابراء (ايضاً). ظفير

(۴) عن ابي سلمة قال سألت عائشة رضي الله عنها كم كان صداق النبي ﷺ قالت كان صداقه لازواجه ثنتی عشرة اوقية ونش قال اتدري ما النش قلت لا قالت نصف أوقية فتلك خمسمائة درهم. رواه مسلم، وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: ألا لا تغالوا صدقة النساء فإنها لو كانت مكرمة في الدنيا وتقوى عند الله لكان أولاكم بها نبي الله صلى الله عليه وسلم ما علمت رسول الله صلى الله عليه وسلم نكح شيئا من نسائه ولا أنكح شيئا من بناته على أكثر من اثنتي عشرة أوقية. رواه أحمد والترمذي وأبو داود (مشكوة المصابيح باب الصداق ص٢٧٧) پنځه سوه درهمه يوسل اويو ديرش تولې سپين زر جوړيږي، دحضرت مفتي صاحب په زمانه کي ددې قيمت يوسل او پنځه ويشت روپۍ وو، زموږ په دې زمانه کي تر شپږ نيم سوه زياتيږي. والله اعلم، ظفير

الحدیث (۱) نوددی وجه څخه متابعت دلوړو مبارکو اودبيبيانو مبارکودنبي ﷺ په دی باره کی افضل دی که څه هم زيات هم جائزدی (۲) اوبعضی عالمان په موجوده دور کی دښځی خير په زيات کی ګرځوی. ظفير)

فاحشه ښځه چې دخاوند دکوره وتښتي مهر به اخلی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۲۰) يوه ښځه په عمر دشلو کالو چې دهغې مور اوپلار ته ښه پوره علم ؤ چې دابدکاره ده نوددی بدکاری دوجه دايو دوه واره دکوره هم تښتيدلی وه ددی بدنامی دختمولو دپاره دخاوند کورته راغله اوهلته څومیاشتی اوسیدله اوددی دماما سره دڅه تعلق مشاهده وسوه دخاوند کورته په راتلو باندی به هم ددی مامابه ديته تلی راتلی خاوند ددی وجه څخه دی بندوی چې دی ددی ماما دی، حال دادی چې دی ددی میریزي ماما وو، خوچاته هم ددی ګمان ونه سو نوددی وجه څخه دده راتلل بند نه سوه په دی دوران کی دده نوکری په بل ځای کی وسوه نودی ښځی خپل ټول کالی اوپه کورکی چې نور څومره کالي وه دهغو سره ټول يي يوړه اوپه نیمه شپه ددغه ځای څخه وتښتيدله اوخپل ماماته ولاړه په لاره کی ددی اکا هم ملازم وو، هلته کښنه نه سوه اونه دخپل مور اوپلار کره ولاړه دډير تلاش څخه وروسته څه سړی هلته ولاړه نووی کتل چې دادماما سره ده، هلته ماسوا ددی دماما څخه بل څوک نه وو، نو ددی پلار داخپل کورته راوسته، نوايا داسی ښځه دمهر داخیستو حقداره ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دادمهر حقداره (۳) ده. فقط

مهر موجل چې کله وغواړی وصولولی يی نه سی: سوال: (۱۲۲۱) ايا دمهر موجل څخه دا مراددی چې ښځه دخاوند سره دخلوت صحیحه څخه وروسته چې کله هم وغواړی مهر وصولولی سی اوترڅو چې ښځه دامهر دخاوند څخه وصول نه کړی نودخاوند څخه جلا اوسیدی سی؟

جواب: داحکم دمهر معجل دی چې ښځه کله هم وغواړی نو وصولولی يې سی اودمهر موجل داحکم نه دی ددی دوصولولو وخت مرګ اويا طلاق (۴) دی. فقط

---

(۱) مشکوٰۃ المصابیح کتاب النکاح باب الصداق ص ۲۷۷. ظفیر

(۲) حدیث دحضرت عمر ﷺ په مخکی صفحه کي نقل سویدی. ظفیر

(۳) دزنا ګناه پردی ښځه ده، مګر چه دخاوند سره پاته سوی وی نوپر خاوند باندی پوره مهر لازم دی: والمهر یتاکد باحد معان ثلثة الدخول والخلوة الصحیحة وموت احدالزوجین (عالمگیری کشوری باب المهر ج۲ ص ۳۱۴ طبع ماجدیه ج ص۳۰۳). ظفیر

(۴) لا خلاف لأحد أن تأجيل المهر إلى غاية معلومة الخ صحيح وإن كان لا إلى غاية معلومة فقد اختلف المشايخ فيه قال بعضهم يصح وهو الصحيح وهذا لأن الغاية معلومة في نفسها وهو الطلاق أو الموت (عالمگیری =

خاوند دمهر موجل ادا كولو څخه بغير هم ډولي وړلي سي: سوال: (۱۲۲\) خاوند بغير دمهر موجل داداء کولو څخه خپله ښځه بېولی سی اوکه نه؟

جواب: په مهر موجل کی بی شکه خاوند بی دادا کولو څخه ډولی وړلی سی. (١)

انجلۍ والا دواده دخرڅ دپاره دمهر څخه څه اخيستي سي اوكه نه؟ سوال: (۱۲۲۳\) دانجلۍ اولاد دهلك څخه په طور دمهر معجل دنكاح څخه مخكى څه حصه اخيستى سی اوکه نه؟

جواب: دانجلۍ دسامان دپاره دمهر څه حصه خرڅ كولى سى. کمافی ردالمحتار: وفيها فيض الاب المهر وهي بالغة اولا وجهزها او قبض مكان المهر عينا ليس لها ان لا تجيز لان ولاية قبض المهر الى الاولياء وكذا التصرف فيه. (٢) فقط

ترطلاق وروسته دمهر په ادا كولو كی لور اوحمل وركول څنګه دي؟ سوال: (۱۲۲۴\) يوسړی خپلی ښځی ته په يوه جلسه کی طلاق ورکی اودکور څخه يي وايستنه اوپه عوض دمقرر مهرکي يې خپله ددرو کالو لور او داوو مياشتو حمل ورکی، دلور او دحمل په مهر کی ورکول شرعا جائزدی اوکه نه؟

جواب: لور اوحمل په مهر کی ورکول ناجائز اوخطا دی پوره مهر دخاوند پر ذمه واجب دی اومهر به دمال څخه وي، انجلۍ اوحمل مهر نه سی کيدی. قال الله تعالى: ان تبتغوا باموالكم محصنين غير مسافحين الخ (سورة النسآء : رکوع ۴). فقط

دتنخوا وركولو په صورت كي خاوند وويل چي كم رقم دخرڅ څخه پاته سي هغه به په مهر كي حساب وي: سوال: (۱۲۲۵\) زيد خپلی ښځی ته ددولسو کالو راهيسی پوره تنخوا ورکوی چی دکور خرچه ډيره زياته ده اودزيد ښځي ښه اندازه رقم بچت کوی، ترپنځو کالو پوری زيد دبچ سوی رقم په باره کی هيڅ هم ونه ويل خو دپنځو کالو وروسته زيد خپلی ښځی ته داوويل چی كم رقم ستا اوديوه ماشوم اوزما دخرچی څخه زيات وی هغه به په مهر کی شماروی، په دې صورت کي پاته رقم به په مهرکي شمار وي اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی به بچ سوی رقم په مهرکی حساب وی، لتصريح الزوج به او دنفقی اعتبار به په عرف متعين سی. فقط

مهر به دخاوند دجائيداد څخه وصوليږي او كه دهغه سړي څخه چي واده يې ورلره كړيدی؟

= مصری باب المهر ج۲ ص۳۳۱ طبع ماجديه ج۳ ص۸۰۳ الباب السابع الفصل الحادی عشر). ظفير

(١) واذا كان المهر موجلا اجلا معلوما قبل الاجل ليس لها ان تمتنع نفسها لتستوفی المهر (ايضا ج۲ ص۳۳۰ ، ط.س. ج۳ ص۸۱۳). ظفير

(٢) ردالمحتار باب المهر قبيل باب النكاح الرقيق ج۲ ص ۵۰۸ ، ط.س. ج۳ ص۱۲۱. ظفير

سوال: (۱۲۲۶) زید بالغ دی خو دده هیڅ ولی وارث نسته یو پردی سړی دده نکاح دیوي بالغ العمر سره په دی حالت کی وکړه چی زید بالکل بی حسه وو اودده مرض وار ترواره زیاتیدی تردی چی زید مړسو زید ته دخلوت صحیحه موقع پیدا نه سوه دزید دمرګ څخه یوه هفته وروسته دده ښځه هم مړه سوه دښځی وارثان مدعی دمهر دی نوآیا شرعًا دامهر واجب الاداء دی اوپه هندوستان کی ددی څه دستور دی اوپه پنجاپ کی څه دی؟ ایا دامهر پردی سړی واجب دی چی چا دزید نکاح کړی وه؟ اوکه نه دزید دجائیداده څخه به وصولیږی؟

جواب: مهر پرذمه دخاوند پوره واجب دی اودزید دجائیداد څخه به اخیستل کیږی اودا شرعی حکم عام دی اودهندوستان اودپنچاب څه فرق نسته ([1]). فقط

دمهر دمعاف کولو په وخت یي وویل چی معاف کوم یي خوکه ستا زامنو جنګ وکی نو بیابه یي اخلم، څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۲۲۷) زینب ته عبدالله دیولوی سفر په وخت دمهر دمعاف کولو درخواست وکی زینب وویل چی زه مهر معاف کوم خوکه ستا دمخکی ښځی زامنو ستا دمرګ څخه وروسته زما سره جنګ وغیره وکړی نوزه به دعدالت په ذریعه خامخا ستا دترکي څخه خپل مهر اخلم کنې نومعاف کوم یې، نو آیا دامهر به عند الله او عند القضاء معاف وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی عندالله مهر معاف سو نه عند القاضی. کما یصح تعلیق الابراء عن الدین بشرط محض الخ درمختار. فقط

دنکاح څخه وروسته مهر زیاتیدی سی اوکه نه؟ او ددی دپاره څه وخت مقرر دی اوکه نه؟

سوال: (۱۲۲۸) که په وخت دنکاح اوخاوند بالغ وی اومهر متعین وی وروسته دنکاح څخه په دی معلوم مقدار دمهرکی چی په وخت دنکاح مقرر سوی وو زیات کیدی سی اوکه نه؟ که کیدی سی نودښځی په تقاضا به وی اوکه نه خاوند په خپله بی له تقاضا دښځی هم زیاتی کولی سی که زیاتی کول جائزوی نو وروسته دنکاح څخه کم وخت؟ آیا هر وخت یاکه دخلوت صحیحه څخه وروسته؟

جواب: په درمختار کی دی: ومافرض الخ بعد العقد الخ او زید علی ماسمی فانها تلزمه بشرط قبولها فی المجلس ([2]) الخ. نومعلومه سوه چی دمهر زیاتول وروسته دقبلولو دښځی څخه صحیح اومعتبر دی، او لازمیږی دښځی په مطالبه وی اوکه خاوند په خپله

([1]) ویتاکد (المهر) عند وطی اوخلوة صحت من الزوج اوموت احدهما (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۵). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۳. ط.س. ج۳ ص ۱۱۱. ظفیر

زیاتی وکړی او ددخول څخه وروسته وی اوکه ددخول څخه مخکی وی غرض دا چی کله هم وی خو وجوب ددی زیاتی وروسته ددخول یادمرگ څخه دی که ددخول اودخلوت څخه مخکی طلاق وسی نودا زیادت ساقط دی، داصل مهر نیم لازمیږی. هکذا فی الدر المختار والشامی ([1]). فقط

دتجدید نکاح په صورت کی مهر به نوی وی اوښځه به ددواړو مهرونو حقداره وی: سوال: (۱۲۶۹\) چی کله یوسړی ته دتجدید دنکاح ضرورت وی نودایجاب اوقبول په وخت به پخوانی مهر دوباره کیږی اوکه نه؟ دنوی مهر مقررولو ضرورت به وی اوددی مهر په مقررولو کی به ښځی ته اختیار وی اوکه څه؟ اوسړی به دواړه مهرونه اداکوی اوکه څه؟ حال دادی چی دښځی مخکی مهر هم لا تراوسه نه دی اداء سوی؟

جواب: په نکاح جدید کی به مهر نوی وی اوددی اختیار به ښځی لره وی چی کم مقدار دا ووایي هغه به وی اوخاوند به دواړه مهرونه اداء کوی ([2]). فقط

ښځی وویل چی طلاق راکړی مهر به معاف کړم خاوند قبول وکی دی مهر معاف کی او خاوند طلاق ورنه کی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۷۰\) دزید ښځی خپل خاوند ته وویل چی که ته ماته طلاق راکړي نوزه به تاته مهر معاف کړم زید رضا سو خوښځی وویل چی قسم وخوره زید قسم واخیستی چی په خدای قسم که تا زما مهر معاف کی نوزه به تاته طلاق درکړم نو سمدستی دده ښځی مهر معاف کړی اوزید دطلاق ورکولو څخه انکار وکړی نوآیا په دې صورت کي ښځه دزید مطلقه مغلظه سوه اوکه نه؟ او ددې مهر زید ته معاف سو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کي که خاوند طلاق ورنه کړي نومهر به هم معاف نه وي ځکه چی دمهر معافی دښځی دطرفه په عوض دطلاق وو، وروسته چی کله خاوند طلاق ورنه کی نو مهر به هم معاف نه وی ([3]) (ځکه چی دامعافی معلق وه. ظفیر)

دزناپه وجه مهر ساقطیږی اوکه نه؟ او زناکاره ښځه معاف کول څنګه دی؟ سوال: (۱۲۷۱\) یوه منکوحه خاوند والا ښځی زنا وکړه ایا په وجه دزنا ددی مهر دخاوند دذمې څخه

([1]) لا ینصف لاختصاص التنصیف بالمقروض فی العقد بالنص بل تجب المتعة فی الاول ونصف الاصل فی الثانی (درمختار) قوله لاینصف ای بالطلاق قبل الدخول بحر، قوله ونصف الاصل فی الثانی ای فیما لوزاد بعد العقد (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۴. ط.س. ج۳ ص۱۱۳. قبیل مطلب فی حط المهر). ظفیر

([2]) وتجب العشرة إن سماها الخ ویجب الأکثر منها إن سمی الأکثر ویتأکد عند وطئ أو خلوة صحت من الزوج أو موت أحدهما او تزوج ثانیا (درمختار) فیما لو طلقها بائنا بعد الدخول ثم تزوجها في العدة وجب کمال المهر الثاني بدون الخلوة والدخول (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۴۲). ظفیر

([3]) قاعده ده چی: اذا فات الشرط فات المشروط. ظفیر

ساقط سو اوکه نه باقي دی؟ که ددی زناکاری ښځی داخطاء ددی خاوند معاف کړی نو په قیامت کی به باندی دده مواخذه وی اوکه نه؟

جواب: دزناپه وجه مهرنه ساقطیږی اوپوره مهر دخاوند پرذمه باندی لازم دی، اوزنا کاری دالله ﷻ گناه ده په توبه اوپه استغفار سره معاف کیږی، اودخاوند څخه هم خیانت اوحق تلفی سویده دادخاوند په معاف کولو سره نه معاف کیږی دالله ﷻ گناه دا په توبه معاف کیږی اوچی کله دزړه داخلاصه یي الله ﷻ ته توبه وکښله اودا توبه قبوله سوه او الله ﷻ دزنا گناه معاف کړه نودا معاف سوه خاوند یي معاف کړی اوکه نه، اوچی کمه بی حرمتی اوخیانت دخاوند سویدی نوددی مطالبه دخاوند دطرفه کیدی سی اودا دخاوند په معاف کولو ساقطیږی اودخاوند دطرفه بالاجمال هم معاف کیدی سی مثلا چی دا ووایي چی ما ستا هره خطا اوڅه قصور چي تا کړی وی نودا مي معاف کړی، نوکه ده معاف کړه، نودخاوند چی کمه حق تلفی سویده هغه معاف سوه.

<u>په حالت دطلاق کی دمهر فیصله به څه وی؟</u> سوال: (۱۲۷۲) زید دیوی ښځی سره نکاح وکړه اودرواج مطابق دوه زره روپی مهر مقرر سو څومیاشتی وروسته ناخوښی راغله چی تقریبا اوه کاله ددی وسوه اوس موافق دشرع فیصله کول غواړی نوپه حالت دطلاق کی به دمهر وغیره څه فیصله وی؟

جواب: که طلاق په طریقی دخلع وی یعنی داسی چی ښځه خپل مهر معاف کی اوخاوند طلاق ورکړی نودطلاق څخه وروسته دمهر مطالبه نه سی کولی اوکه خاوند بغیر دعوض دمهر دمعافی څخه طلاق ورکی نوبیا ښځه که مدخوله وه یاخلوت سویدی نوبیا ښځه به پوره خپل مهر اخیستی سی (۱). فقط

<u>چی کله دمهر پته نه لګیږی نوڅه مقررول په کاردی؟</u> سوال: (۱۲۷۳) هنده مړه سوه اوس دهندی مور او ورور، زید، عمر، بکر، وغیره دخپلی خور اودلور دمهر قرض سل روپی غواړی او دهغې خاوند دوه نیم سوه ښیي خوتحقیق چاته هم نه دی معلوم چی څه مهر مقرر سویدی اودقاضی اودوکیل اودشاهدانو دخاوند اودښځی دپلرونو وفات سویدی صرف دهندی مور سته خودیته هم داتحقیق نه دی معلوم اودانجلۍ اودهلك واده دلسو کالو په عمر کی سویدی اودغه وخت دهندی دوروڼو عمر شپږ کاله اواته کاله وو، موږ ته هم څه پته نسته خودهندی داکا لور ددی انجلۍ دمهر په کاغذ کی دقاضی دوه سوه روپی لیکلی دی اودهندی څوك بله خور اوترور نسته نوڅومره مهر باید مقرر سی؟

(۱) ویتاکد المهر عند وطو اوخلوة صحت من الزوج اوموت احدهما الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۵۲. ط.س. ج۳ ص ۱۰۲) ظفیر

جواب: په دی صورت کی دهندی داکا دلور چی کم مهر دی هغه دی مقرر سی کمافی الدر المختار. مهر مثلها من قوم ابیها. ([1]) فقط

مهر موجل دطلاق یا دمرګ څخه مخکی نه سی طلب کولی اوښځه به دخاوند کره اوسیږی:

سوال: (۱۲۷۴) دزید نکاح دهندی سره وسوه هنده به دزید کره تله راتله اودزید څخه دهندی لور پیداسوه دهندی دمور زړه وو چی ددی زوم ددی لور ددی په کورکي وساتی اوخرچه ورکوی، دلته زید وايي چی زه به يي په خپل کورکی ساتم هنده دخاوند سره دتلو څخه انکار کوی، هنده داشرعی عذر کوی چی که زید ماپه کورکی ساتی نودی به اول ماله خپل مهر راکوی ترڅو چی دی ماته مهر رانه کړی زه به ترهغه دده کورته نه ځم، دخاوند څخه دمهر مطالبه وسوه خاوند داوايي چی زما دښځی مهر معجل نه دی، رسید دنکاح چی زما سره کم دی په دی کی بلاتصریح لیکل سویدی اوپه وخت دنکاح هم دمعجل تصریح نه ده سوی که مهر معجل وای نوپر مابه يې ادا کول حق وو، او دخاندان دستور هم دادی چی په وخت دنکاح څوك مهرنه ورکوی، اونه ښځه دطلاق یادمرګ څخه مخکی مطالبه دمهر کوی ددی وجه څخه دهندی مهر داوخت واجب الاداء نه دی دیته دمطالبی هیڅ حق نسته دا هلته مطالبه کولی سی چی زه دیته طلاق ورکړم یازه مړسم دخاندان درواج مطابق دښځی مطالبه ناجائزده اوښځی ته زما سره داوسیدوڅخه دانکار کولو هیڅ حق نسته نوآیا هندی لره دزید کورته تلل په کاردی اوکه نه؟ اوآیا دادطلاقو څخه مخکی مطالبه دمهر کولی سی اودخاوند سره شرعا څه کول په کاردی؟ اودخاوند عذر شرعا معتبر دی اوکه نه؟

جواب: خاوند په دی باره کی پرحق دی چی کله مهر معجل نه دی نودښځی مطالبه دعرف موافق دطلاقو یادمرګ څخه مخکی نه سی کولی په عالمګیریه کی دی چی: وان کان لا الی غایة معلومة فقد اختلف المشائخ فیه قال بعضهم یصح وهذا لان الغایة معلومة فی نفسها وهو الطلاق اوالموت ([2]) الخ اوښځی ته په دی صورت کی دخاوند دکور څخه دتللو دانکار کولو حق نسته. فقط

داختلاف په صورت کی مهر به څه وی؟ **سوال**: (۱۲۷۵) هنده خپل مهر پاوباندی یولك روپی بیانوی اودخاوند په مقابله کی يي دعوٰی وکړه خاوند داجواب ورکی چی ماته دمهر مقدار یادنه دی خوزه په عوض دمذکوره مهر کی خپل جائیداد چی تقریبا شل زره دی دمدعیه سکه زوی په نوم کولو ته تیار یم خوپه دوران دمقدمه کی خاوند مړسو او

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر مطلب فی بیان مهر المثل ص۴۸۷ ج۲، ط.س. ج۳ ص۱۳۷).
([2]) عالمګیري مصري کتاب النکاح فصل حادي عشر ج۲ ص۲۹۸، ردالمحتار ط.س. ج۳ ص۳۱۸. ظفیر

دده زوی چی دبلی ښځی څخه دی دمقدمی جواب ورکی چی دهندی دمهر مقدار دوه سوه روپی اوپنځه اشرفی دی نوپه دی صورت کی به دچا قول معتبروی؟

جواب: په داسی حالت کی شرعا مهرمثل ته کتل کیږی مهرمثل چی دچا دقول سره موافق وی هغه به معتبر وی. وقالا یقضی بمهر المثل کحال حیاة وبه یفتی درمختار ([1]). فقط

دمهر موجل مطالبه دطلاق یا دمرګ څخه مخکی نه سی کیدی اوښځه به دخاوند سره وی:

سوال: (۱۲۷۷) دزید نکاح په **۱۵** دجون سنه **۱۹۱۲** کی دهندی سره وسوه دواده څخه وروسته هنده دزید کره تله راتله اودواده څخه وروسته دزید څخه ددی حمل وسو اولس میاشتی یعنی **۱۵** اپریل سنه **۱۹۱۷** باندی دهندی لور پیدا سوه اوتراوسه ژوندی ده دهندی دمور خواهش دی چی ددی زوم ددی لور ددی په کورکي وساتی اوهم هلته خرڅ ورکړی زید وایي چی زه به یي په خپل کور ساتم هنده دخپلی مور اودنورو قریبانو په لمسون دزید کره دتلو څخه انکاري ده اوداعذر کوی چی دابه دده پرکور نه اوسیږی اونه دخاوند دمورسره په اوسیدو رضامنده ده اوس هنده داشرعی عذر پیش کوی چی که زید ما دخپل ځان سره ساتی نوپه ده اول زما مهر اداکول ضروری دی، ترڅو چی دی زما مهر اداء نه کړی نوزه به دده کورته ولاړه نه سم اونه خاوند ته شرعا بغیر دمهر ورکولو څخه داحق حاصل دی چی دی مادمور دکوره خپل کورته بوزی، اوچی داشرعی مطالبه دخاوند څخه ده نوددې وجه دخاوند څخه ددې مطالبه وسوه نوخاوند ددې شرعي مطالبی په جواب کی وایي چی زما دښځی مهر معجل نه وو زما سره چی کم رسید دنکاح دی په هغه کی دمهر معجل صراحت نسته اودا امر فی الواقع صحیح دی مهر بلاصراحت دی دښځي لور هم یاده سویده اوددې عمر داوخت تقریبا دوه کاله وو اوس دې ته ددی مطالبه کولو چی بی دمهر څخه ځم حق سته اوکه نه؟ اوپه خاندان کی دا دستور دی چی په وخت دنکاح څوك مهر نه ورکوی اونه ښځه دطلاقه یادمرګه مخکی مطالبه کوی، او په زوجینو کی هم دا معامله ده، ددی وجه دهندی مهر اوس واجب الاداء نه دی اونه اوس دېته دمطالبې څه حق حاصل دی داهلته مطالبه کولی سی چی زه دېته طلاق ورکړم یازه مړسم په خلاف دطریقی ددستور دخاندان، دغه وخت مطالبه دښځی ناجائز ده او ښځی ته زما سره داوسیدو څخه هیڅ دانکار حق نسته اوس سوال دادی چی موافق دشریعت هندی لره دزید کره تلل په کاردی اوکه نه؟ اوپه دی مذکوره صورت کی دطلاق اودمرګ څخه مخکی دمهر مطالبه کولی سی اوکه نه؟ اوخاوند ته شرعا څه په کاردی؟

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۹۸ ، ط.س. ج۳ ص ۱۵۰. ظفیر

اودخاوند عذر عند الشرع معتبر دی اوکه نه؟ جواب سره داحوالو دکتابونو دشریعت ولیکی عند الله ماجور او اوعند الناس مشکور سئ؟

جواب: په نکاح کی مهر یولازمی شی دی که څه هم په وخت دایجاب وقبول کی دزوجینو په مینځ کی تذکره دمهر نه وی سوی یاپه دې شرط سره نکاح سوی وی چی مهر به نه ورکول کیږی بیاهم ورکول لازم دی مهر پردوه قسمه دی معجل اوبل موجل هویو صورت دمهر پرتصریح په وخت دنکاح کي یاپررواج دښار موقوف دی، دمهرمعجل مطالبه دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد ښځه هروخت کولی سی که څه هم چي دې مخکی خپل ځان خاوند ته حواله کړی وی اودا دخپل نفس دبندولو دپاره عدم اداء دمهر معجل عذر کولی سی. نودیارانو په دی کی خلاف دی، دوی دواړه فرمایي چی وروسته دخلوت صحیحه او دنفس دسپارلو څخه ښځی ته دمهر معجل دعدم اداء دوجه څخه دکف دنفس حق حاصل نه دی، هم داقول معتبر دی دمهر موجل مطالبه ښځه قبل الاجل نه سی کولی، نه ځان دسپارلو څخه بندولی سی دریم صورت دادی چی دمهر هیڅ تصریح نه وی سوی په دې صورت کی به دمهر څه حصه یعنی ثالث اوربع وغیره مقرر نه سی کیدی، په دی کی به عرف اورواج دخاندان ته گوری، که دخاندان رواج اوپه عرف کی دداسی مهر څه حصه ورکول کیږی نودومره به ورلره ورکړي په صورت مسئوله دسائل کی داخبره واضحه ده چی ښځی تسلیم دنفس کړیدی ځکه چی ددی لور سته اودمهر څه تصریح نسته نواوس ښځی ته دځان بندولو هیڅ حق نه دی دی لره دخاوند داوسیدو څخه انکار نه دی کول په کار دښځی داعذر چی زه دخاوند دمور سره نه اوسیږم شرعا دمنلو قابل دی دادخاوند دمور سره شرعًا په اوسیدو نه سی مجبوره کېدی بلکی خاوند به هنده خپله ښځه په جلا سرای کی ساتی اوهلته به دواړه اوسیږی اودیوبل حق به اداء کوی داوخت دښځی مطالبه دمهر قابل اعتبار نه ده ځکه چی په سوال کی په صفا الفاظوکی دمهر څه تصریح نسته اوپه خاندان کی هم دارواج دی چی دطلاق اودمرگ څخه مخکی دمهر څه معامله نه وی زما څخه په ژوند کی نه څوك مهر اخلی اونه یي ورکوی بلکی دطلاق یا دمرگ څخه وروسته مطالبه کیږی نوپه دی صورت کی درواج څخه خلاف ښځی ته دمطالبې دمهر څه حق نسته اونه په دی وجه داځان بندولی سی په بهشتی زیور حصه چهارم مطبوعه کانپورص ۱۹ بیان مهر هندوستان کی دادستور دی چی دمهر اخیستل دطلاق اودمرگ څخه وروسته وی یعنی دمړه کیدو یا دطلاق واقع کیدو څخه وروسته بیا دمهر دعوه کیږی که سړی مړسوی وی اوڅه مال یي پرې ایښی وی نوددی مال څخه یي اخلی اوکه ښځه مړه سی نوددی وارث دمهر دعویدار سی او چی ترڅو ښځه اوخاوند یوځای

اوسیږی نه څوك ورکوی اونه داغواړی نوپه داسی ځای کی دطلاق رسیدو څخه مخکی دا دمهر دعوٰی نه سی کولی اوچی په لوموړی شپه دڅومره مهر ورکولو دستوردی نو دومره ورکول واجب دی که په یوقوم کی دا دستور نه وی نو ددوی به داحکم نه وی اوکه مهر معجل په وخت دنکاح مقرر سو او رواج دخاندان ددی خلاف وی نوپه دی صورت کی به رواج دخاندان په مقابله دتصریح اودقبول دخاوند متروك ګڼل کیږی او دښځی او دخاوند قبول لره به ترجیح وی خلاصه داده چی ښځی لره دخپل خاوند سره اوسیدل په کاردی اوس دانکار هیڅ حق حاصل نه دی دمهر مطالبه دا دمرګ یادطلاق څخه وروسته کولی سی خاوند لره په کاردی چی ښځه دخپل ځان سره وساتی او دښحی حقونه اداء کړی په مسئوله صورت کی دخاوند عذر قابلِ اعتبار دی اودده عذر عند الشرع معتبر دی: کما جاء فی کتب الفقه، فتاوٰی عالمګیری ج۱ مصری ص۳۳۸ .

ولو دخل الزوج بها أو خلا بها برضاها فلها أن تمنع نفسها عن السفر بها حتى تستوفي جميع المهر على جواب الكتاب والمعجل في عرف ديارنا عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى وفي منع النفس بقولها وإن بينوا قدر المعجل يعجل ذلك وإن لم يبينوا شيئا ينظر إلى المرأة وإلى المهر المذكور في العقد أنه كم يكون المعجل لمثل هذه المرأة من مثل هذا العصر فيجعل ذلك معجلا ولا يقدر بالربع ولا بالخمس وإنما ينظر إلى المتعارف وإن شرطوا في العقد تعجيل كل المهر يجعل الكل معجلا ويترك العرف كذافی فتاوٰی قاضی خان بحر الرائق جلد ثالث مصری ص۱۹۰ بحث كف نفس فی الفتیا بعد الدخول لاتمنع نفسها ولومنعت لانفقة لها زیلعی جلد ثانی مصری ص۱۵۵ قال أبو يوسف ومحمد إذا دخل بها برضاها أو خلا بها ليس لها أن تمنع نفسها ويترتب عليه استحقاق النفقة لهما أن المعقود عليه قد صار مسلما إليه بالوطأة أو بالخلوة ولهذا يتأكد جميع المهر فلم يبق لها حق الحبس كالبائع إذا سلم المبيع بخلاف ما إذا كانت مكرهة الخ مجمع الانهر ج۱ مصري ص۳۵۸. وللمرأة منع نفسها من الوطئ والسفر حتى يوفيها قدر ما بين تعجيله من مهرها كلا أو بعضا ولها السفر والخروج من المنزل أيضا ولها النفقة لو منعت نفسها لذلك وهذا قبل الدخول وكذا بعده عند الإمام لأن المهر مقابل لجميع الوطآت الموجودة في الملك فإذا سلمت بعض المعقود عليه لا يسقط حقها في حبس الباقي كما لو سلم البائع بعض المبيع خلافا لهما فيما لو كان الدخول برضاها وفي الإيضاح أنه قول الإمام أولا لأن تسليم المعقود عليه يحصل بالوطأة الأولى فيسقط حق امتناعها كما يسقط حق البائع في حبس المبيع بعد تسليمه قيد برضاها لأنها لو كانت مكرهة فلها المنع اتفاقاً فتاوٰی قاضی خان برحاشیه فتاوٰی عالمگیری ص۳۵۲ بحث حبس نفس إذا زوجت المرأة ولها

مهر معلوم كان لها أن تحبس نفسها لاستيفاء المهر فإن كان في موضع يعجل البعض ويترك الباقي في الذمة إلى وقت الطلاق أو الموت كما هو عرف ديارنا كان لها أن تحبس نفسها لاستيفاء المعجل وهو الذي يقال بالفارسية دست پيمان وليس لها أن تطالبه بكل المهر فإن بينوا قدر المعجل يعجل ذلك وإن لم يبينوا شيئا ينظر إلى المرأة وإلى المهر المذكور في العقد أنه كم يكون المعجل لمثل هذه المرأة من مثل هذا المهر فيجعل ذلك معجلا ولا يقدر ذلك بالربع ولا بالخمس وإنما ينظر إلى المتعارف لأن الثابت عرفا كالثابت شرطا وإن شرطوا في العقد تعجل كل المهر تجعل الكل معجلا ويترك العرف شامى جلد ثانى مصرى ص٣٦٨ بحث منع نفس زوجه أو أخذ قدر ما يعجل لمثلها عرفا أي إن لم يبين تعجيله أو تعجيل بعضه فلها المنع لأخذ ما يعجل لها منه عرفا وفي الصيرفية: الفتوى على اعتبار عرف بلدهما من غير اعتبار الثلث أو النصف وفي الخانية يعتبر التعارف لأن الثابت عرفا كالثابت شرطا ، تبيين الحقآئق جلد ثانى مصرى ص١٥٥ بحث منع نفس اعلم أن المهر المذكور منها ما تعورف تعجيله حتى لا يكون لها أن تحبس نفسها فيما تعورف تأجيله إلى الميسرة أو الموت أو الطلاق ولو كان حالا لأن المتعارف كالمشروط وذلك يختلف باختلاف البلدان والأزمان والأشخاص هذا إذا لم ينصا على التعجيل أو التأجيل وأما إذا نصا على تعجيل المهر أو تأجيله فهو على ما شرطا حتى كان لها أن تحبس نفسها إلى أن تستوفي كله فيما إذا شرط تعجيل كله وليس لها أن تحبس نفسها فيما إذا كان كله مؤجلا لأن التصريح أقوى من الدلالة فكان أولى. فقط، والله أعلم بالصواب

الجواب صحيح عزيز الرحمٰن عفى عنه مفتى دار العلوم ديوبند يكم رجب ١٣٣٧ هـ

دبدكارى په وجه په طلاق وركولو سره هم مهر واجب دى: **سوال**: (١٢٧٧) چې كله ښځه بدكرداره وى او دبدكردارى په وجه خاوند دې ته طلاق وركړى نودمهر په باره كى څه حكم دى؟

جواب: كه طلاق ددخول يادخلوت څخه وروسته وركول سوى وى نوپوره مهر دخاوند پر ذمه اداءكول واجب (١) دى دخاوند دطرفه چې څه خرڇه په واده كى سويده نوهغه په مهر كى نه شماريږى اوچى ښځى ته كم كالى وركول سويدى په دى كى كه نيت دمهر وركولو وى اوښځى خپل ملكيت كړى وى دابه په مهر كى شاملي وى. فقط

چې كمى روپى دنكاح په نوم واخيستل سى نو دا رشوت دى او په مهر كى به حساب نه وى:

(١) والمهر بتاكيد باحد معان ثلثة الدخول والخلوة وموت احد الزوجين (عالمگيرى كشورى كتاب النكاح باب المهر فصل ثانى ج٢ ص ٣١٤ ، ط.س. ج٣ ص٣٠٣). ظفير

سوال: (۱۲۷۸) یوسړی دیوی ښځی پلار ته روپی ورکړی اودخپل زوی نکاح یي وکړه ځو ورځی وروسته دښځی خاوند مړسو بیا ددی خاوند پلار دیوبل سړی ځخه داروپی واخیستی اوددی ښځی نکاح یي ورسره وکړه په داسی صورت کی دغه روپی چی ددوهم خاوند دطرفه ورکول سوی دی ددی په مهر کی به حساب وی اوکه نه؟

جواب: داروپی رشوت دی دخاوند پلار لره داروپی اخیستل صحیح نه دی ورواپس کول یې په کاردی اوپه مهر کی دغه روپی بی دتصریح ددی چی دا روپی دمهر دي، نه سی حساب کیدی. فقط

خاوند دخلوت ځخه مخکی مړسو نو دمهر ځه حکم دی؟ **سوال**: (۱۲۷۹) دیوی بالغی انجلۍ نکاح وسوه خودخلوة صحیحه ځخه مخکی ددی خاوند مړسو په داسی حالت کی پردی باندی لس ورځی اوځلورمیاشتی عده واجب ده اوکه نه؟ که دادلس ورځو اوځلورو میاشتو ځخه مخکی دوهمه نکاح وکړی نودا نکاح جائزده اوکه نه مهر پوره واجب دی اوکه نه؟

جواب: مهر پوره واجب دی ځکه چی دخاوند دمرګ په صورت کی که ښځه مدخوله وی نو پوره مهر به دخاوند دترکه ځخه ورلره ورکول کیږی (۱). فقط

په مهر معجل کی چی کله خاوند مفلس وی نوځه به کیږی؟ **سوال**: (۱۲۸۰) زما ښځه مور اوپلار په لمسون په خپل کورکی ساتلی ده اوپه مایي دمهر دعوٰی په عدالت کی کړیده په وخت دنکاح زما ځخه یي یوسټامپ اودقاضی په رجسټرکی زر روپی مهر معجل لیکلی وو زه یونوکر کسبه سړی یم ځه کافي جایداد زما سره نسته چي زه مهر معجّل ادا کړم دیو نیم کال راهیسی بیکاره یم ترلوږی پوری نوبت راغلی دی په دی صورت کی ځه حکم دی چی کمی په مهر کی کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی پوره مهر دخاوند په ذمه واجب الاداء دی اودمهر معجل دعوٰی ښځه هروخت کولی سی (۲) باقی دمفلسۍ په وجه به هغه احکام جاری وی چی کم پر مدیون مفلس دی یعنی ددی ځخه وروسته چی حاکم ته دده مفلس کیدل ثابت سی نوده ته به مهلت ورکول سی یا دقسط داداء کولـو دپاره به وخت دخاوند دطاقت مطابق مقرر

---

(۱) ویتاکد (ای المهر) عند وطؤ اوخلوة صحت من الزوج اوموت احدهما (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴ ، ط.س. ج۳ ص۱۰۲). ظفیر

(۲) ولها منعه من الوطء ودواعیه والسفر بها ولو بعد وطؤ اوخلوة رضیتها الخ لأخذ ما بین تعجیله من المهر کله أو بعضه أو أخذ قدر ما یعجل لمثلها عرفا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۲، ط. س. ج۳ ص۱۴۳ مطلب فی منع الزوجة نفسها لقبض المهر). ظفیر

سی. فقط

دښځې څخه دمهر په باره کې پوښتنه ونه سوه اونکاح په شرعي محمدي وسوه نوڅه حکم دي؟ **سوال**: (۱۲۸۱) دنکاح دویلو په وخت دښځې څخه اجازه واخیستل سوه اونکاح وسوه خودمهر اخیستل یي دښځې څخه هیر سوه بلکې دخاوند څخه پوښتنه وسوه نوده دشرع محمدي دمهر اجازه ورکړه نوپه دي صورت کې نکاح صحیح سوه اوکه نه؟ او دمهر متعلق څه حکم دي؟

جواب: په دي صورت کې نکاح صحیح سوه، اودمهر په کم مقدار چې ښځه خوشحاله وي هغه صحیح دي که ښځه هم په دي مهر راضي وي چې خاوند ویلي دي نوهم دا صحیح دي کنې نو چې ښځه څه ووایي اوخاوند یي قبول کړي نودغه مقدار دمهر به لازم وي. (۱) فقط

چې په کم کور په مهر کې ولیکل سو نودا ښځه یي خرڅولی سي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۸۲) زلفو دخپل زوی نکاح محمد حسین دحسین بخش دلورسره وکړه اوحسین بخش دخپلې لور مهر دوه سوه روپې مقرر کړې اوزلفو دخپل زوی محمد حسین دمهر په عوض کې دخپل جائیداد یوکور دمهر په عوض دهلك دښځې په نوم ولیکی نودا صحیح دي اوکه نه؟ اوزلفو دامکان خرڅولی سي اوکه نه؟

جواب: دامکان دحسین بخش دلور سو، اوزلفو ته ددي دخرڅولو اختیار نسته (۲). فقط

دمهر مطالبه دخاوند دمرګ څخه وروسته دده دپلار څخه څنګه ده؟ **سوال**: (۱۲۸۳) دزید بالغه نکاح په ولایت دپلار دهندې سره وسوه دزید او دهندې ددواړو کفیل دزید پلار سو اوس زید مړ سویدی اوڅه جایداد یي پرې ایښی هنده دخپل مهر دزید دپلار څخه دوصولولو شرعًا حقداره ده اوکه نه؟

جواب: دهندې مهر پرذمه ددي دخاوند دي چې زیددی دزید دپلار څخه بغیر دده دضامن کیدو څخه هنده دمهر مطالبه نه سی کولی (۳). فقط

په اولادکیدوسره په مهرکې څه کمي خونه دي سوي؟ **سوال**:(۱۲۸۴) دیوسړي ښځه ددولسو

---

(۱) ویصح النکاح وان لم یسم في مهر الخ ثم المهر واجب شرعاً ابانة لشرف المحل (هدایه) والمهر هو المال یجب في عقد النکاح علی الزواج في مقابلة منافع البضع (عنایة علی هامش فتح القدیر باب المهر ج۳ ص۲۰۴، مکتبه حبیبیه کوئټه ج۳ ص۲۰۴). ظفیر

(۲) داځکه چې مهر دښځې حق دی اوهمدا یې مالکه ده . ثم المهر وجب شرعا ابانة لشرف المحل (هدایه). ظفیر

(۳) وصح ضمان الولي مهرها الخ وتطلب ایا شاءت من زوجها البالغ اوالولي الضامن فان اوٰی رجع علی الزوج ان امر کما هو حکم الکفالة (درمختار) لانه لا یطالب بلاضمان (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۰ - ۴۹۱. ط. س. ج۳ ص۱۴۰ مطلب فی ضمان الولی المهر). ظفیر

کالو راهیسی دمور اوپلار کره ده، چی ددی ښځی یوزوی اویوه انجلۍ ده، خاوند دراوستلو ډیر کوشش وکی خو خسرګنی انکار وکی، خاوند دوهم واده وکی خسرګنی دنان اونفقه په باره کی مقدمه وکړه، آیا داولاد کیدو څخه دښځی په مهر کی څه کمی کیږی؟ اوچی کله مهر ورکول سی نونان اونفقه به هم ورکول کیږی اوکه نه؟ او ددواړو اولاد دمور سره دی اوخاوند وایي چی مهر خوزه ورکوم خوزما سره دومره پیسی نسته زما اراده ده چی زه په قسطو نو مهر ادا کړم نوداسي کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په اولاد کیدوپه مهرکی کمی نه کیږی پوره مهر پرذمه دخاوند په دی صورت کی لازم دی ([1]) خوچی ښځه ددی مور اوپلار بی له کمي وجه دخاوند کره نه لیږی نو ددی وجه څخه نفقه دښځی دخاوند پرذمه په دی صورت کی لازمه نه ده ([2]) او داولاد نفقه بی شکه لازمه ([3]) ده اودمهر دمطالبی حق ښځی ته اویا ددی وارثانو ته دی، اوچی کله مهر موجل دی نو وروسته دطلاق یادمرګ څخه دی کذا فی الدرالمختار والشامی وغیرهما ([4]) او وروسته دوجوب دمهر څخه چی که فی الحال کل اداء نه سی نو دښځی اوددی د وارثانو په رضا په قسطونو دی اداسی خواوس خاوند په مهر ورکولو کی داعذر کولی سی چی مهر موجل دی اوما طلاق نه دی ورکړی نو ددی په مطالبه اوس مهر زما پر ذمه لازم نه دی اوکه خاوند داعذر نه کوی اوفی الحال یي ادا کوی نوقسط دی مقرر کړی.

فارغ خطی (طلاق نامه) قبلوونکی دخاوند څخه مهر اخیستی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۸۵)

دښځی اودخاوند په مینځ کی ډیره ناچاقی ده یوه ورځ یي څو کسان راجمع کړل اوددوی په مخکی یي ښځی ته فارغ خطی ورکړه ښځی هم قبول کی اودوهم خاوند یي وکړی نو اوس دمخکی خاوند څخه مهر اخیستی سی اوکه نه؟ حال دادی چی مخکی خاوند یو وار هم جماع نه ده کړی؟

جواب: قال فی الدرالمختار ویسقط الخلع والمباراة کل حق لکل منها علی الاخر مما یتعلق بذلك النکاح قوله: کل حق شمل المهر والنفقة المفروضة والماضیة والکسوة کذلك، ([5]) نومعلومه سوه چی په دیصورتکی دفارغ خطی څخه وروسته مهر پرذمه د

([1]) ومن سمی مهرا عشرة فما زاد فعلیه المسمٰی ان دخل بها اومات عنها لانه بالدخول یتحقق تسلینم المبدل وبه تاکید البدل (هدایه باب المهر ج۲). ظفیر

([2]) فاما اذا امتنعت عن الانتقال الخ واما اذا کان الامتناع بغیر حق الخ فلا نفقة لها وان نشزت فلانفقة لها حتٰی تعود الی منزله والناشزة هی الخارجة عن منزل زوجها المبالغة نفسها منه (عالمگیری مصری باب فی النفقات ج۲ ص۴۸۵ طبع ماجدیه ج۱ ص۵۴۵ الفصل الاول نفقة الزوجة). ظفیر

([3]) نفقة الاولاد الصغار علی الاب لایشارکه فیها احد (ایضا فصل نفقة الاولاد ج۲ ص۴۹۲، ط.س. ج۱ ص۵۲۰). ظ

([4]) الا التأجیل لطلاق اوموت (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارباب المهر ج۲ ص۴۹۳، ط.س. ج۳ ص۱۴۴). ظفیر =

خاوند لازم نه دی دښځی دعوٰی دمهر په خاوند باطله ده. فقط

پرمقدار دمهر بحث او ددی فیصله: **سوال**: (۱۲۸۶) دلته په یورپ کی عموما که امیر دی اوکه غریب دټولو مهر څلویښت زره روپی مقرر کیږی اوچی کم مهر دازواج مطهراتو اودخوږ مبارک ﷺ دلوښو دی، دیته دذلت اودحقارت په نظر ګوری زیدچی یوعربی خوان طالب العلم دی دده رشته دترور (عمه) دلور سره سویده اواوس نکاح کیږی اودانجلۍ مور اوپلار دڅلویښت زره څخه په کمه راضی نه دی، زید وایي چی دمروجه مهر په مقررولو سره شریعت ماګنهګار ګرزوی نوددی وجه څخه شریعت هغه سړی چی اول دمهر داداء کولو نیت نه لری حکمًا زانی ګرزوی لکه چی ابن حجر مکی په الزواجر عن اقتراف الکبائر کی لیکی: الکبيرة السابعة والستون بعد المائتين أن يتزوج امرأة وفي عزمه ألا يوفيها صداقها لو طلبته. أخرج الطبراني بسند رواته ثقات أنه صلى الله عليه وسلم قال: أيما رجل تزوج امرأة على ما قل من المهر أو كثر وليس في نفسه أن يؤدي إليها حقها خدعها فمات ولم يؤد إليها حقها لقي الله يوم القيامة وهو زان، انتهٰی (۱) اوزه دموجوده حیثیت مطابق دنهو لسو زرو څخه دزیاتو متحمل نه یم که په څلویښت زره راضی سم نو ښکاره ده چی زما صحیح نیت دادا کولو به نه وی څلویښت زره مهر مقررول که په اصل کی جائز هم وي، نواوس دالازم اوپه شان دواجبو ګرځول اودسنتو تحقیر کول سخت مذموم دی په داسی حالت کی شرعا دامعلومیږی چی دمسنون مقدار څخه په مهر کی زیاتی ونه سی اوکه دغه وخت څه زیاتی هم وی چی زړه ته ګران معلومیږی نوداهم جائز معلومیږی چی په کرار کرار سنت ته راسو، شرعاً چي کم حکم دی هغه ولیکئ؟

جواب: په دی کی شك نسته چی دمهر کم کیدل ښه دی او دحیثیت څخه زیات کیدل خو بالکل مناسب نه دی دحضرت عمر ﷺ ارشاد دی: الا لا تعلوا صدقة النساء فانها لو كانت مكرمة في الدنيا وتقوى عند الله لكان اولى كم بها نبى الله ﷺ ما علمت رسول الله ﷺ نكح شيئًا من نسائه ولا انكح من بناته على اكثر من اثنتى عشرة اوقية (۲) ددی روایت څخه دنبی کریم ﷺ دلوښو اودبیبیانو مهر دولس اوقیې یعنی ۴۸۰ درهمه کیدل معلوم سوه، دحضرت عائشی صدیقی رضي الله عنها په روایت کی دولس نیمی اوقیی (۵۰۰) درهمه معلومیږی اوداپه اعتبار داکثرو بیبیانو دی ځکه چی دحضرت ام حبیبه

(۵) وګوری ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص۷۷۷، ط.س. ج۳ ص ۴۵۲ مطلب حاصل مسائل الخلع والمباراة على اربعة وعشرين وجها. ظفیر

(۱) الزواجر عن اقتراف الکبائر. ظفیر

(۲) مشکوٰة عن احمد والترمذی وغیرهما باب الصداق ص۲۷۷. ظفیر

رضی اللہ عنہا چي درسول الله ﷺ بي بي وه څلور زره درهمه مهر مقرر وو، ملاعلي قاري رحمہ اللہ په مرقاة دشرح مشكوٰة كى ليكى چى كه داشبهه وسى چى دحضرت عمر رضی اللہ عنہ دزيات مهر مقررولو څخه منع كول خو دايت: واتيتم احدٰهن قنطارا (١). سره منافى معلوميږى ځكه چى دآيت څخه ديوې لويې خزانې مقدار مهر مقررول هم جائز معلوميږى نوددى جواب دادى چى دآيت څخه دزيات مهر جواز معلوميږى چى څومره هم زيات وى خزانه وى، اودحضرت عمر رضی اللہ عنہ دارشاد څخه دكم مهر فضيلت معلوميږى، نوهيڅ تعارض پاته نه سو، ځكه چى حاصل داسو چى زيات مهر مقررول جائز اوصحيح دى خو افضل اوښه داده چى دمهر مقدار كم وى نوهم داجواب په صورت مسئوله كى دى، چى څلويښت زره روپى يا ددى څخه هم زيات مهر مقررول جائز دى كه څه هم دخاوند حيثيت ددومره نه وى، اوادا كول هغه وخت معلوميږى اونكاح منعقده ده خو افضل اوښه او موافق دسنت دادى چى دمهر مقدار كم وى اودحيثيت څخه زيات خوچى بالكل نه وى باقى دزيد داخيال چى په مهر مروجه سره په نكاح كولوباندى زه شرعاً گنهگاراومرتكب دحرامو كيږم صحيح نه دى ځكه چى فقهاؤ داحنافو داتصريح كړيده چى كه دنكاح په وخت دمهر نفى هم وكړى چى زه به مهر نه دركوم بياهم نكاح صحيح كيږى اومهر مثل لازميږى اومهر مثل هم هغه دى چى كم په دى خاندان كى مروج دى نوكه دنه وركولو نيت يي وى نوبيا خوپه طريقه اولى نكاح صحيح (٢) ده او دزواجرو څخه چى كم روايت منقول دى، نوپه دى كى لفظ دحقهادى چى تماموحقوقوته شامل دى تردى چى معاشرت اونفقه وغيره ته شامل دى نوچى دكم سړى نيت دنكاح مخكى داوى چى زه به حق دښځى نه اداء كوم نه به مهر وركوم اونه نفقه اونه مسكن اونه لباس اونه صحبت وغيره نودده په عاصى كيدوكي عند الله كى هيڅ شك نسته اوواضح دى وى چى نيت داداكولو داسى هم كيدى سى چى وسى نواداء به يي كړم كنې نو معاف به يي كړم نوپه دى صورت كى دلكونو روپو دمهر مقررولو جواز هم را وزى. په هرحال حاصل دادى چى دزيات مهر په جوازكى خوكلام نسته اونه دنكاح په منعقدكيدوكى كلام سته اوقبلول دزيات مقدار دمهر سبب دمعصيت هم نه دى خوكمى كول دمهر ډير ثواب اوفضيلت لرى اوتمام اقوام مالدارو اوغريبانو لره درواج چى دمهر زياتوالى چى په درجه دمغالات كى دى پريښوول په كاردى اودمهر كم رواجول په كاردى. فقط

---

(١) سورة النساء: ركوع ٣. ظفير

(٢) وكذا يجب مهر المثل فيما اذا لم يسم مهر او نفى ان وطئ الزوج او مات عنها (درمختار) قوله: او نفى بان تزوجها على ان لا مهر لها (ردالمحتار باب المهر ج٢ ص٤٢٠، ط.س. ج٣ ص١٠٨ - ١٠٩). ظفير

دبی اولاده ښځې دمهر وارثان ددې مور خور دی اوکه نه؟ او ددوی په معاف کولو سره به معاف وی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۸۷) زما ښځه بی اولاده مړه سوه ددی مور او پلار وروڼه او خوندی موجودی دی مور اوپلار یې که ترکه دمهر دزړه په خوشحالی معاف کړی نو زما غاړه به خلاصه سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ددی وارثان وروڼه خوندی نه دی مور پلار اوخاوند دی نوچی مور او پلار خپله حصه دمهر په باره دخاوند کی معاف کړی نوخاوند بری الذمه سو.

معافی صراحتا کیدل په کاردی؟ **سوال**: (۱۲۸۸) دمرحومی ترکه مهر یاکالی لوښی وغیره ددی دمور اوپلار څخه دمعافی دپاره کنایة مثلا مطالبه نه کول یا خپل نه کیدل کافی دی اوکه صراحةً الفاظ دمعافی ویل شرط دی؟

جواب: مطالبه نه کول یا خپل نه کیدل کافی نه دی صراحة دمعافی الفاظ ویل ضروری دی. فقط

دمرزایي خاوند سره دنکاح دفسخ کولو څخه دعدی اودمهر څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۲۸۹) هنده اوخالده دخپلو خاوندانو سره چی مرزایان وو فسخ دنکاح وکړه په دی وجه چی دوی کافر اومرتد دی ایا فی الواقع دعالمانو داسی فتوٰی سته اودمهر اودعدی او دوراثت څه حکم دی؟

جواب: فی الواقع دمرزایانو په باره کی داسی فتوٰی سته ددوی کافر اومرتد کیدل متفق علیه سویدی ددی وجه څخه یوه ښځه مسلمانه سنیه ددوی په نکاح کی نه سی پاته کیدی. جدایي ضروری ده اومهر اوعده لازمه ده او وراثت به لازم نه وی (۱). فقط

چی خاوند پاګل وی نو دمهر مطالبه به دچاڅخه کیږی اوکله به کیږی؟ **سوال**: (۱۲۹۰) دیو سړی نکاح دیوی ښځی سره وسوه، دډولی تللو څخه مخکی دا سړی پاګل سو اودکوره ووتی چی دهغه دوتلو تقریبًا شپږ کاله سوی دی تراوسه څه پته دده دمرګ اودژوند معلومه نه ده دانجلۍ مور اوپلار مهر طلب کوی په دی صورت کی دهلك دوارثانو پر ذمه مهر واجب دی نوڅومره؟ اوانجلۍ دبل چاسره واده کولی سی اوکه نه؟

جواب: دمهر موجل حکم شرعا دادی چی دطلاق یا په ښځی اوخاوند کی دیوسړی دمرګ څخه وروسته ښځه یا دښځی وارثان دمهر طلب کولی سی، نوپه دی صورت کی چی خاوند مفقود الخبردی ترڅو چی دده دمرګ حکم ونه سی نوتردغه وخته ښځه دده دمور

---

(۱) ویجب مهر المثل فی نکاح فاسد الخ ویثبت لکل واحد منهما فسخ دخل بها اولا وتجب العدة بعد الوطؤ الخ من وقت التفریق الخ ویثبت النسب (درمختار) قوله ویثبت النسب اما الارث فلایثبت فیه (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۸۱ - ۴۹۴. ج۳ ص ۱۳۱ تا ۱۳۴). ظفیر

او پلار څخه مطالبه دمهر نه سی کولی، اومهر په دی صورت کی پوره ددی دخاوند په ذمه لازم دی دده ښځه به دڅلورو کالو څخه وروسته عده دمرګ لس ورځی اوڅلور میاشتی پوره کړی اوبیا دوهمه نکاح کولی سی لکه چی دامام مالك مذهب دی ځکه چی په باره دنکاح کی داحنافو عالمانو دامام مالك په مذهب فتویٰ ورکړیده اوپه میراث یي فتویٰ نسته په دی کی په نوی ۹۰ کلونو یاپر مرګ دملګرو همزولو فتویٰ ده اویامفوض الی رایه الحاکم ته ده. کما فی الشامی قوله خلافا لمالك فان عنده تعتد زوجه المفقود عدة الوفاة بعد مضی اربع سنین وهو مذهب الشافعي القدیم واما المبرات فمذهبهما کمذهبنا في التقدیر بتسعین سنة او الرجوع الی رأی الحاکم (۱). فقط

چی کمه ښځه قابله دمجامعت نه وی نو دهغی مهر لازم دی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۹۱) دزید نکاح دهندی سره وسوه اوزید هندی ته په غرض دکوروالی پرله پسی دری شپی ولاړی معلومه سوه چی هنده قابله دمجامعت نه ده، په عضو مخصوص کی هسی په نوم سوری دی متیازی یي هم په مشکله کیږی اوس زید وایي چی زه دیته طلاق ورکوم هنده خپل مهر غواړی په دی صورت کی زید به پوره مهر ورکوی اوکه نیم پردی یوسړی مولوی نورمحمد دپوره مهر حکم اوفتویٰ ورکړیده چی پردی حضرت صاحب مدظله لاندینی جواب لیکلی دی:

جواب: اقول وبیده ازمة التحقیق په صورت مسئوله کی پوره مهر په هیڅ صورت هم نه لازمیږی ځکه چی فقهاؤ تصریح کړیده چی درتق په صورت کی خلوت صحیحه نه متحقق کیږی اودرتق تفسیر چی کم فقهاء کړیدی په هغه کی داصورت هم راځی. کمافی الدرالمختار من الحسی رتق بفتحتین التلاحم وقرن بالسکون عظم الخ وفی الشامی قوله عظم فی البحر عن المغرب القرن فی الفرج مانع یمنع من سلوك الذکر (۲) فیه الخ ص ۳۴۷ ج۲. اوپه بحر الجواهر کی درتق دامعنیٰ لیکلی ده: رتق بفتحتین ضد الفتق من باب نصر باندهناء رتقاء زنیکه باوی دخول نتوان کرده في المغرب امرأة رتقاء اذا لم یکن لها خرق الا المبال آهـ. داهغه ښځه ده چی په دی کی دخول نه کیږی اوددی صرف دمتیازوسوری وی (ص۱۱۴) ددی څخه صفا معلومه سوه چی دمذکوره ښځی عند الفقهاء اوعند الاطباء اتقاء کیدل ثابت دی ددی وجه څخه درتقاء سره چی کم دخلوت حکم دی، نوددی ښځی به هم هغه حکم وی یعنی نکاح به منعقد تسلیم سی اوکه دخلوت څخه وروسته خاوند ورته طلاق ورکوی نونیم مهر به ورکوی. کمافی الهدایة: وإن کان

---

(۱) ردالمحتار کتاب المفقود ص۴۵۲ مطلب فی الافتاء بمذهب امام مالك فی زوجة المنفقود ج۴ ص۲۹۵. ظ

(۲) ردالمحتار باب المهر ص۴۲۵ ج۲ مطلب فی احکام الخلوة ط.س. ج۳ ص۱۱۴. ظفیر

أحدهما مريضا أو صائما في رمضان أومحرما بحج فرض أونفل أوبعمرة أوكانت حائضا فليست الخلوة صحيحة حتى لو طلقها كان لها نصف المهر ج۲ ص۳۰۲. خلاصه داچې درتق اودقرن په كيدو كې خلوت ته فقهاء غير صحيح وايي اودخلوت فاسده غير صحيحه څخه وروسته په طلاق وركولو كې نيم مهر واجبيږي نو ددې وجه څخه په صورت مسئوله كې مذكوره ښځه هم په صورت دطلاقو دنيم مهر حقداره ده اودمجبوب دمسئلې سره ددې هيڅ تعلق نسته ځكه چې دمجبوب په مسئله كې خلوت ته فقهاء فاسد نه وايي بلكې دايي خلوت صحيحه منلې دى. فاين هذا من ذاك.

دانجلۍ دمرګ څخه وروسته پلار دمهر دعوٰی کولی سی: سوال: (۱۲۹۲) پلار دلور دمرګ څخه وروسته دمهر دعوٰی کولی سی اوکه نه؟

جواب: په قدر دخپلې حصې پلار دمهر دعوٰی دخاوند څخه کولی سی دارکم خاوند خپله حصه دښځې دترکه څخه اخيستی سی. فقط

دښځې په هرشي کې چې دخاوند کمه حصه ده هغه ليرې کيدی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۹۳) چې کله زيد چې خاوند دی نفقه اوسکنی هميشه پرخپله ذمه ولرله اوچې کم لوښي وغيره دانجلۍ دپلار دکوره وه ياځه جائيداد چې دهغه دنيمي مالك دښځې دمرګ څخه وروسته زيد سو ددې هم قيمت لګول صحيح دی اوکه نه؟

جواب: خاوند به دخپلې نيمې حصې حساب وکړي نوهغه دمهر په معاوضه کې لګولی سی مثلا دښځې پلار خپله حصه دمهر اخيستل غواړي اودخاوند حق دښځې په هغه ترکه کې دی چې کمه دپلار په قبضه کې ده نوددې حساب دې وکړي نوچې څه معامله باقي وي دهغه موافق دې عمل وکړي. فقط

چې په مهر کې اختلاف راسي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۲۹۴) که په مهر کې اختلاف وسو خاوند وايي مهر مثلا زر روپې دی او وارث دښځې وايي چې مهر پنځه زره دی او په خاندان کې مهر مختلف وي نودچا قول معتبردی؟

جواب: که ديوه سره شاهد وي نودهغه دقول موافق دې عمل وسي اوکه ګواه دچاسره هم نسته نوچې دچاقول موافق دمهر مثل وي دهغه موافق دې عمل وسي (۱) اومهر مثل

---

(۱) وإن اختلفا في قدره حال قيام النكاح فالقول لمن شهد له مهر المثل بيمينه وأي أقام بينة قبلت سواء شهد مهر المثل له أو لها أو لا وإن أقاما البينة فبينتها مقدمة إن شهد مهر المثل له وبينته مقدمة إن شهد مهر المثل لها لأن البينات لإثبات خلاف الظاهر وإن كان مهر المثل بينهما تحالفا فإن حلفا أو برهنا قضى به وإن برهن أحدهما قبل برهانه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المهر مطلب مسائل الاختلاف فى المهر ج۲ ص۴۹۷ ، ط.س. ج۳ ص۱۴۸). ظفير

هغه دی چی ددی ښځی دپلار په خاندان کی مروج وی، اوپه درمختار کی دخلاصی څخه منقول دی چی ددی دخوندو اودترورګانو دمهر اعتباربه وی. والحرة مهر مثلها الشرعی مهر مثلها اللغوی ای مهر امرأة تماثلها من قوم ابیها الخ. ([1]) فقط

کم مهر چی په رسمی طور باندی مقرر کیږی نوهغه لازم دی اوکه نه؟سوال: (۱۲۹۵) مهر معجل په هندوستان کی په رسمی طور باندی مقرر کیږی نه دسړی دورکولو نیة وی اونه دښځی داخیستو نیت وی نو په دی صورت کی مهر لازمیږی اوکه نه؟ اودنبی کریم ﷺ په زمانه کی یووارث دمهر دعوٰی کړیده اوکه نه؟

جواب: دعربو دستور په ژوند کی دمهر ادا کول وو اودمهر مقداردنبی کریم ﷺ په زمانه کی دومره نه وو، چی خاوند برداشت یا اداء کولی نه سو، په هرحال شرعی مسئله داده چی مقرر مهر پرخاوند لازم دی داداء کولو نیت یې وی اوکه نه؟ په دی څه اثر نه پریوځی ([2]). فقط

چی چا غلط صفت بیان کی اونکاح یې ورلره وکړه نودده څخه مهر وصولیدی سی اوکه نه؟

سوال: (۱۲۹۶) زید بکرته شوق ورپیدا کړی چی زینب نومي کونډه ډیره ښائسته اودنرم مزاج مالکه ده بکر دده په دی بیان ددی سره نکاح وکړه په معامله او مشاهده معلومه سوه چی دزید تعریف غلط وو، اودا طلاقه سویده، اوس بکر خپلی منکوحی ته طلاق ورکوی که منکوحه مهر طلب کړی نوبکر یې دزید څخه غوښتی سي اوکه نه ځکه چی زید بکر دهوکه کړیدی؟

جواب: په دی صورت کی پربکر مهر واجب دی په وجه داستمتاع دمنکوحی اوبکر دزید څخه دانه سی اخیستی: قال الله تعالی ان تبتغوا باموالکم محصنین غیر مسافحین. (سورة النسآء: رکوع ۴) نو معلومه سوه چی دمهر ذمه دار خاوند دی، اودزید څخه دده داخیستو حق نسته ددهوکی په سبب دزید پر ذمه دمهر ضمان به لازم نه وی. فقط

یوکم دری روپی مهر کیدی سی اوکه نه: **سوال:** (۱۲۹۷) مهر دوی روپی اودولس آنی کیدی سی اوکه نه؟

جواب: مهر شرعی کم از کم لس درهمه دی ([3]) چی دهغه تقریبا پاؤ کم دری روپی کیږی

([1]) ایضا مطلب في بیان مهر المثل ج۲ ص۴۸۷ ، ط.س. ج۳ ص۱۳۷. ظفیر

([2]) تجب العشرة ان سماها اودونها ویجب الاکثر منها ان سمی الاکثر (درمختار) افاد ان المهر وجب بنفس العقد (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص ۱۰۱ تا ۱۰۲). ظفیر

([3]) واقله عشرة دراهم فضة وزن سبعة مثاقیل الخ وتجب العشرة ان سماها اودونها (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص ۱۰۱ تا ۱۰۲). ظفیر

(لس درهمه دیونیم دیرش ماشو دسپینو زرو برابردی دسپینو زرو قیمت کمیږی او زیاتیږی، نوددی وجه څخه دهری زمانی په سکه رائج الوقت سره شرعی مهر هم کمیږی او زیاتیږی چی نن سباپه شپږ نیمی روپو یوه توله سپین زر خرڅیږی نوپه دی اعتبار قیمت اولس روپی سو، ددی څخه کم مهر به په موجوده دور کی جائزنه وی. ظفیر)

په نابالغ مهر لازم دی اوکه نه؟ سوال: (۱۲۹۸) په نابالغ هلك مهر واجبیږی اوکه نه؟ اوکه دنابالغ په پلار مهر لازمیږی؟

جواب: مهر پر نابالغه هلك لازم سویدی که پلار دده ضامن سوی وی نودده څخه به وصولیدی سی ([1]). فقط

دنابالغی ښځی دمهر دعوٰی په چا وکړی؟ سوال: (۱۲۹۹) که هلك اوانجلۍ پریږدی نو دمهر دعوٰی په چا وکړی؟

جواب: نابالغ هلك طلاق نه سی ورکولی دبلوغ څخه وروسته طلاق ورکولی سی اودمهر دعوٰی په هلك یعنی په خاوند به وی اوکه پلار یي ضامن وی نوبیا دپلار څخه هم کیدی سی ([2]). فقط

چی پلار ضامن وی نودده څخه دی دمهر مطالبه وسي: سوال: (۱۳۰۰) هلك نابالغه دی اودپلار په اجازه سره مهر مقرر سو دنابالغ دستخط هم وسو نوپه دی صورت کی مهر په چا واجب دی اودچا څخه اخیستل په کاردی؟

جواب: چی که دستخط سوی وی اوکه نه وی سوی په اصل کی هلك دمهر ذمه داردی او که پلار ضامن سوی وی نوبیا دی دده څخه مهر واخیستل سی ([3]). فقط

په خاوند باندی مهر په کم عمر کی واجب دی؟ سوال: (۱۳۱۰) پر هلك باندی کله اوپه کم عمر کی مهر واجبیږی؟

جواب: دمهر دواجبیدلو دپاره دهلك بالغیدل شرط نه دی دنابالغ پرذمه هم مهر لازمیږی ([4]). فقط

مهرلازم دی که څه هم حالت یي نه وی ښکاره کړی:سوال: (۱۳۰۲)دنکاح په وخت دانجلۍ

([1]) اذا زوج ابنته الصغیر امرأة وضمن عنه المهر وکان ذالك فی صحة جاز الی قوله ثم للمراءة ان تطالب الولی بالمهر (عالمگیری کشوری ج۲ ص۳۳۹ طبع ماجدیة ج۱ ص۳۲۲). ظفیر

([2]) لا یقع طلاق (الی قوله) الصبی ولو مراهقا (الدرالمختار ج۲ ص۲۱۷. ط.س. ج۳ ص۲۴۲ تا ۲۴۳). ظفیر

([3]) من سمی المهر عشر فما زاد فعلیه المسمٰی ان دخل بها اومات (الی ان قال) وان طلقها قبل الدخول والخلوة فلها نصف المسمٰی (هدایه ج۲ ص۳۰۴) اذا زوج ابنته الصغیر امرأة وضمن عنه المهر (الی قوله) للمرأة ان تطالب الولی بالمهر (عالمگیری کشوری ج۲ ص۳۳۹ طبع ماجدیة ج۱ ص۳۲۲). ظفیر

([4]) من سمی مهرا عشر فما زاد فعلیه المسمٰی (هدایه ج۲ ص۳۰۳). ظفیر

حالت قاضي صاحب ته څرګند نه سو نونكاح صحيح اومهر لازم سو اوكه نه؟

جواب: حالت ښكاره سوي وي اوكه نه نكاح وسوه اوس هيڅ نه سي كيدى اومهر لازم سو ([1]). فقط

مهر نه سي ختميدى: **سوال**: (۱۳۰۳) كه نابالغه هلك دمهر ختمولو مقدمه په عدالت كي وكړي نومهر ختميدى سي اوكه نه؟

جواب: نه سي ختميدى ([2]). فقط

دښځي په معاف كولو سره معاف كيږي: **سوال**: (۱۳۰۴) كه بالغه ښځه په لومړى شپه خپل مهر معاف كړي نومعاف به وي اوكه نه؟

جواب: مهر معاف سو كه ښځه دامعافي مني يا ددوو عادلانو سړو شاهدانو ياديو سړي او ددوو ښځو په مخكي معافي سوي وي نومهر ساقط سو مطالبه دمهر بياځوك نه سي كولى اوكه ښځه دمعافي څخه انكاروي اوشاهد شرعي موجودنه وي نومطالبه دښځي صحيح ده ([3]). فقط

بغير دخلوت څخه په طلاق نيم مهر لازميږي: **سوال**: (۱۳۰۵) كه خاوند خپلي منكوحي ته دنكاح څخه وروسته بې دودولو طلاق وركړي مهر به لازم وي اوكه نه؟

جواب: بغير دخلوت صحيحه اودوطي او دجماع څخه كه خاوند خپلي ښځي ته طلاق وركړي نونيم مهر لازميږي لكه چي باري تعالىٰ فرمايي: وان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن وقد فرضتم لهن فريضة فنصف مافرضتم ([4]). الايه وفي الدرالمختار ويجب نصفه طلاق قبل وطي اوخلوة الخ ([5]). فقط

په مهر كي مكان وركول صحيح دي اوددي سره نكاح وسوه: **سوال**: (۱۳۰۶) يوسړي ديوى ښځي سره نكاح وكړه اوپه مهر كي يي يومكان وركول مقرر كړه اووى ويل چي رجسټري به وروسته دنكاح څخه وكړم نودوه كاله وسوه چي رجسټري ونه سوه نوپه دي صورت كي نكاح وسوه اوكه نه؟ اودا سړى په سينما كي ملازم دي او يوى سترګي والا دي نوپه

([1]) وينعقد اى النكاح يثبت ويحصل انعقاده بالايجاب والقبول (ردالمحتار ج۲ ص۳۰۲، ط.س. ج۳ ص۹). ظ

([2]) من سمى مهرا عشرة فما زاد فعليه المسمىٰ (هدايه ج۲ ص۳۰۲) افاد ان المهر وجب بنفس العقد (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴. ط. س. ج۳ ص ۱ – ۲). ظفير

([3]) وصح حطها لكله اوبعضه عنه قبل اولا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۲ ص۳۲۴. ط. س. ج۳ ص۱۱۳) ونصابها بغيرها من الحقوق سواء كان الحق مالا اوغيره كنكاح وطلاق الخ رجلان اورجل وامراتان (الدرالمختار كتاب الشهادات ج۲ ص۹۱. ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفير

([4]) سورة البقرة. ظفير

([5]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۲ ص۴۵۶ ، ط.س. ج۳ ص ۱۰۴. ظفير

دی خبرو سره خو په نکاح کی څه فرق خو نه راځی؟

جواب: نکاح وسوه اوچی کم مکان خاوند په مهر کی ورکول مقرر کړی وو نوهغه مهرسو که رجسټری ونه سوه نوبیا هم دامکان دښځی ملك دی دخاوند په رجسټری کولو سره په نکاح کی څه فرق نه راځی (۱) اونه ددی وجه چی خاوند په سینما کی ملازم دی او دیوی سترګی والادی په نکاح کی هیڅ فرق نسته. فقط

<u>دمهر موجل دوصولو موده</u>: **سوال**: (۱۳۰۷) دمهر دوصولولو میعاد څه دی؟

جواب: مهر موجل په طلاق سره په جلا کیدو یادمرګ څخه وروسته ادا کول واجب دی. ویقع ذالك علی وقت وقوع الفرقة بالموت اوالطلاق وروی عن ابی یوسف ما یؤید هذا القول کذا فی البدائع (عالمګیری کشوری ج۲ ص۳۱، ظفیر). فقط

سوال: (۱۳۰۸) ښځی چی مهر وصول کړیدی ددی څخه وروسته دخاوند دملکیت څخه دحصی اخیستو حقداره ده اوکه نه؟

جواب: دمهر حاصلولو څخه وروسته که خاوند مړسی نودښځی حصه سته اودوفات څخه مخکی یي ماسوا دنفقه اودجامو څخه بل حق نسته. فقط

<u>دلیونی ښځه څه وکړی؟</u> **سوال**: (۱۳۰۹) دهندی دخاوند حواس ختم سوه نوهنده دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟ اوهنده دخپل خاوند څخه طلاق اخیستی سی؟ اویا خلع کولی سی اوکه نه؟ اومهروصولولی سی اوکه نه؟ اوچی کله دخاوند مسلوب الحواس جائیداد دومره دی چی دښځی کفالت باندی کیدی سی نوپه دی صورت کی دښځی دعوٰی دمهر شرعا سته اوکه نه؟

جواب: دلیونی اودمسلوب الحواس ښځه دوهم واده نه سی کولی (۲) اودلیونی طلاق هم نه واقع کیږی (۳) اونه یي خلع کیدی سی، مهر که موجل دی نو دلیونی خاوند دمرګ څخه وروسته دده دجائیداد څخه دده ښځه مهر اخیستی سی فی الحال دعوٰی نه سی کولی ځکه چی دمهر موجل مطالبه دطلاق یا دمرګ څخه وروسته کیدی سی، په صورت مسئوله کی طلاق خو نسی کیدی نو ددی وجه څخه دخاوند دمرګ څخه وروسته دعوه د

---

(۱) ویجب الاکثر منها ان سمی الاکثر ویتاکد عند وطؤ اوخلوة صحت (درمختار) وافاد ان المهر وجب بنفس العقد الخ (ردالمحتار ج۲ ص۴۵۴ باب المهر ط. س. ج۳ ص۱۰۲) ان المسمٰی ان کان غیر النقود بان کان عرضا اوحیوانا اما ان یکون معینا باشارة اواضافة فیجب بعینه (ردالمحتار ج۲ ص۴۷۹. ط. س. ج۳ ص۱۲۹ مطلب تزوجها علی عشرة دراهم اوثوب). ظفیر

(۲) ولا یتخیر احدهما ای الزوجین بعیب الاخر فاحشا لجنون وجذام الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۸۲۲. ط. س. باب العنین وغیره ج۳ ص۵۰۱). ظفیر

(۳) لایقع طلاق المولی علی امراة عبد (الی قوله) والمجنون (الدرالمختار ج۲ ص۲۱۷. ط.س. ج۳ ص۳۴۲). ظ

مهر صحیح کیدی (۱) سی هذا کله فی کتب الفقه۔ فقط

چې ښځې مهر معاف نه کې نو دخاوند پرذمه واجب الاداء دی: **سوال**: (۱۳۱۰) یوسړی دخپلې ښځې مهر نه وو ادا کړی اونه یې دښځې څخه معاف کړی وو چې دښځې وفات وسو نواوس څه حکم دی؟

جواب: مهر ددی سړی پرذمه واجب الاداء دی خوکه دمتوفی څه اولاد نه وی نونصف دترکه دمتوفی وارث خاوند دی اونیم به باقی وارثانو ته ورکول کیږی نومهر نیم هم خاوند ته رسیږی (۲)۔ فقط

دمهر دمعاف کولو په وخت شاهدی ضروری نه ده: **سوال**: (۱۳۱۱) دمهر دمعاف کولو په وخت دشاهدانو کیدل ضروری دی اوکه نه؟

جواب: دمهر دمعاف کولو دپاره دڅه شاهد وغیره ضرورت نسته (۳)، خوکه دښځې وارثان انکار وکړی نوپه دووشاهدانو به معافی ثابتیږی۔ (۴) فقط

آیا مهر په میراث کی داخل دی؟ سوال: (۱۳۱۲) آیا مهر هم په میراث کی داخل دی؟

جواب: په میراث کی مهر داخل دی که اولاد نه وی نودخاوند حصه نیم دمهر وغیره ده۔

دناجوړی خرچ به په مهر کی حساب وی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۱۳) دمنکوحی ښځې مرض اوپه نورو ضروریاتو کی چې کمی روپې وغیره خرڅ سی نوداپه مهر کی حسابیدی سی اوکه نه؟

جواب: داخرچه بغیر درضامندی دښځې څخه په مهر کی نه سی حسابیدلی۔ (۵) فقط

دمهر دمقررولو وجه: **سوال**: (۱۳۱۴) په نکاح کی دمهر مقررولو څه فائده ده اوددې څه سبب دی؟

جواب: په قطعي نص کي راغلي دي: واحل لکم ما وراء ذلکم ان تبتغوا باموالکم محصنین غیر

---

(۱) ولو کان المهر موجلا (الی قوله) ویقع ذالك علی وقت وقوع الفرقة بالموت او بالطلاق وروی عن ابی یوسف ما یؤید هذا القول کذا فی البدائع (عالمگیری کشوری ج۲ ص۳۳۱، ط. س. ج۱ ص۳۱۸)۔ ظفیر

(۲) واما الزوج فحالتان النصف عند عدم الولد وولد الابن وان سفل والربع مع الولد الخ (سراجی ص۱۳)۔ ظفیر

(۳) وصح حطها لکله اوبعضه عنه قبل اولا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۳۲۴ مطلب فی حط المهر ط. س. ج۳ ص۱۱۳)۔ ظفیر

(۴) وما سوی ذالك من الحقوق یقبل فیما شهاده رجلین اورجل وامراتیین سواء کان الحق مالا اوغیر مال مثل النکاح والطلاق الخ (هدایه ج۳ ص۱۳۵)۔ ظفیر

(۵) اعلم أن المذهب المصحح الذي علیه الفتوی وجوب النفقة للمریضة قبل النقلة أو بعد ما أمکنه جماعها أو لا معها زوجها أو لا حیث لم تمنع نفسها إذا طلب نقلتها فلا فرق حینئذ بینها وبین المرأة الصحیحة لوجود التمکن من الاستمتاع کما في الحائض والنفساء الخ (ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۹۲. ط.س. ج۳ ص۵۷۸)۔ ظفیر

مسافحین، الآیة، (سورة النساء: رکوع ۴) ددې قطعي آیت څخه دمهر ضروری کیدل معلوم سوه په دی دښځی عظمت اوشرافت ښکاره کیږی: ثم المهر واجب شرعا لشرف المحل. البحر الرائق ج۲ ص۱۵۲. ظفیر). فقط

کالی چی کم خاوند ورکړیدی داپه مهر کی حساب دی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۱۵) یوسړی خپلی ښځی ته طلاق ورکړی نوپه مقرر سوی مهرکی دوخت دنکاح څخه تروخت دطلاقه پوری چی کم کالی یي ورکړی دی شماربه وی اوکه نه؟

جواب: که خاوند په مهر کی حساب کړی وی او کالی یي ورکړی وی نودابه په مهر کی حساب وی اوکه هدیه کړی یي وی نودابه په مهرکی حساب نه وی اوکه صرف داستعمال دپاره یي ورکړی وی داکالی به دخاوند ملکیت وی که داغواړی نوپه مهر کی حسابیدی سی. (۱) فقط

دمهر دعوٰی: سوال: (۱۳۱۶) زید دخپلی مړی خور هندی دمهر دعوٰی پر عمر چی دهندی خاوند دی کړیده عمر جواب ورکی چی هنده په ژوند مهر معاف کړیدی اوپه ثبوت دمعافی کی یي څه شاهدان پیش کړل خوحاکم په شاهدانو کی دجرح وغیره نقص را وایستی اوشاهدان یي ردکړل نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: چی دمعافی دمهر ثبوت شرعی اوپوره وی نودعوٰی دښځی دورور به مسموع نه وی دمفتی کارهم دومره دی چی دا ولیکی چی که دوه شاهدان عادلان دمهر موجود وی نو مهر ساقط دی (۲) اومطالبه دښځی دورور غیر مسموع ده اوکه دوه شاهدان عادلان نه دی یاڅه بله خبره درد دشاهدی په دوی کی موجوده ده نودښځی دورور دعوٰی صحیح ده اومهر به ده ته ورکول سی باقی قبول یارد دشاهدی کار دقاضی دی. فقط

داطاعت نه کولو په صورت کی مهر: سوال: (۱۳۱۷) دزید ښحه دده اطاعت نه کوی که زید دیته طلاق ورکړی نومهر به لازم وی اوکه نه؟

جواب: که دخول یاخلوت صحیح سوی وی نودطلاق څخه وروسته پوره مهر اداکول لازم دی (۳). فقط

---

(۱) لو بعث الی امرأته شیئًا ولم یذکر جهته عند الدفع غیر جهة المهر فقالت هو ای المبعوث هدیة وقال هو من المهر او من الکسوة او عاریة فالقول له بیمینه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹، ط. س. ج۳ ص۱۵۱ مطلب فی ما یرسل الی الزوجة). ظفیر

(۲) وما سوی ذالك من الحقوق یقبل فیها شهادة رجلین اورجل وامراتین سواء کان الحق مالا اوغیر مال الخ (هدایه ج۲ ص ۳۸). ظفیر

(۳) یجب الاکثر منها ان سمی الاکثر ویتاکد عند وطو اوخلوة صحت (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب =

دمهر مثل څخه څه مراد دی؟ سوال: (۱۳۱۸) دیوی ښځی نکاح په مهر مثل وسوه ځو ورځی وروسته دښځی اوخاوند په مینځ کی دمهرمتعلق اختلاف پیداسو، دښځی داقول دی چی زما مهر مثل زما دمور اودسکه خور برابردی یعنی چی څومره څومره دهغوی وو، دومره زماهم دی په خلاف دخاوندهغه وایي چی نه ستا مهر ستا دمیریزی خور برابر دی اوس عند الشرع دچا قول معتبردی اوخاوند به کم مهر ادا کوی، اوپه وخت دنکاح کي ماسوا دمهر مثل څخه څه تفصیل نه دی سوی.

جواب: په درمختار کی دی: ومهرمثلها الشرعی مهر مثلها اللغوی ای مهر امراة تماثلها من قوم ابیها لا امها الخ سنا وجمالا الخ (۱). ددی عبارت حاصل دادی چی دپلار په خاندان کی چی کمه ښځه ددی مثل وی په عمر اوصورت اودینداری وغیره کی ددی مهر ته کتل په کاردی همدا مهر مثل دی اوداهم په دی عبارت کی مذکور دی چی دمور او ددی دقبیلی دمهر اعتبار نسته اودشامی دعبارت څخه معلومیږی چی په سکه او میریزی خورکی څه فرق نسته په دوی کی چی کمه مماثله وی په عمر اوصورت وغیره کی دهغه چی کم مهر وی هغه به ددی وی. فقط

مهر مؤجل مقرر شو اوس دانجلۍ پلار دمعجل دعوی کوی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۳۱۹) دهندی نکاح دزید سره وسوه اومهر موجل مقرر سو خویا دقاضی په غلطی یادهندی دپلار په سازش دقاضی په رجسټر کی لفظ دموجل ونه لیکل سو، هنده بی اولاده ده او ددی پلار ډیر مقروض دی ده هنده په خپله قبضه کی کړه اودنیم قرض دعوه یي په عدالت کی وکړه نوپه دی صورت کی دمهر موجل اعتبار سته اوکه نه؟ سره ددی چی عرف ددی ځای دادی چی که مهر بی له تصریح وی نوتر قیام دنکاح او دژوندی ښځی تر خاوند پوری ښځی ته دهیڅ حصی رسیدو رواج نسته دهندی پلار وایي چی درواج څخه وجود هلته معلومیدی سی چی عدالت ته مقدمه ولاړه سی اوناکامی وسی اوبی له دعدالت دجائز کولو څخه درواج پته نه لګیږی؟

جواب: اعتبار هم دهغه دی چی څه په باره دمهر کی مقرر سوی وی نوچی کله مهر موجل مقرر سوی نوموجل لازم دی اودمهر موجل مطالبه دطلاق څخه وروسته یاپه مرګ کیدی سی اوعرف هم دغه دی. کذافی عالمګیری (۲). فقط

= المهر ج۲ ص۴۵۴ ، ط.س. ج۳ ص۱۰۲). ظفیر

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۴۸۷، باب المهر ط.س. ج۳ ص۱۳۷. ظفیر

(۲) ولا خلاف لاحد ان تاجیل المهر الی غایة معلومة الخ وان کان لا الی غایة معلومة فقد اختلف المشایخ فیه قال بعضهم یصح وهو الصحیح وهذا کان الغایة معلومة فی نفسها وهو الطلاق اوالموت (عالمگیری باب =

که دمړ خاوند جائيداد دمهر څخه کم وي نوبقيه به دوارثانو په ذمه وي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۲۰\) که دمړي جائيداد دمهر څخه کم وي نودوارثانو په ذمه ددي اداء کول ضروري دي اوکه نه؟

جواب: دمړي دجائيداد څخه مهر اخيستي سي (۱) اوکه دسړي جائيداد ددي دپاره کافي نه وي نوپه وارثانو ادا کول لازم نه دي. فقط

دښځي په ژوند کي په مهر کي دچا حق سته اوکه نه؟ سوال: (۱۳۲۱\) دښځي په ژوند کي ددي په مهر کي دکمو کمو وارثانو حصه سته؟

جواب: دهيچا هم نسته. فقط

دمرګ په وخت چي کم مهر معاف کيږي نوهغه معاف کيږي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۲۲\) دخاوند ددفن کولو څخه مخکي اکثره ښځي وارثاني دمړي دخپلي فائدي دحاصلولو دپاره دمړي ښځه مجبوره کړي اومهر باندي معاف کړي اوپه دي وخت کي پردې ډيره پريشاني وي اوعقل اوهوش يي نه وي په داسي وخت کي دمهر معافي معتبره ده اوکه نه؟

جواب: په داسي وخت کي معافي صحيح اومعتبره (۲) ده. فقط

دمعافي په وخت ديوچا حاضريدل ضروري دي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۲۳\) دمهر دمعاف کولو په وخت دښځي دخاوند څه نژدي قريب ورور يا پلار کيدل ضروري دي اوکه نه؟

جواب: دمعافي دمهر دپاره دښځي او خاوند دقريبانو موجوديدل ضروري نه دي خوکه ښځه دمعافي دمهر څخه انکار وکړي نودخاوند په وارثانو دوه عادل شاهدان په معافي دمهر پيش کول ضروري دي بغير دشاهدانو به په صورت دانکار دښځي معافي دمهر نه ثابتيږي (۳). فقط

چي مهر مطلق وي نو دڅومره مطالبه په ژوند کي کولي سي؟ سوال: (۱۳۲٤\) که مهر بي له صراحة ثابت وي نوپه دي حال کي که ښځه بي اولاده وي اوددي پلار عياش اوفضول خرخ اومقروض وي اوخاوند ددي داوسيدو اودخرخ اوخوراك انتظام کړي وي اودڅه

= المهر ج۱ ص۲۹۸ باب السابع فصل حادی عشر ج۱ ص۳۱۸). ظفير

(۱) تتعلق بترکة الميت حقوق اربعة مرتبة الاول يبدأ بتکفينه وتجهيزه من غير تبذير ولا تقصير ثم تقضٰی ديونه من جميع مابقی من ماله الخ (سراجی ص۴). ظفير

(۲) وصح حطها لکله اوبعضه عنه قبل اولاد (درمختار) بما لحط الاسقاط کمافی المغرب الخ وان لاتکون مريضة مرض الموت (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۴ - ۴۲۵، ج۳ ص۱۱۳ مطلب فی حط المهر الخ). ظفير

(۳) وتصابها لغيرها من الحقوق سواء لکان الحق مالا او غيره کنکاح وطلاق الخ رجلان الخ او رجل وامراتان الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۵، ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفير

خاص رواج هم ثبوت نه وی نوشرعا ښځه په ژوند دخاوند کی دڅومره مهر اخیستو حقداره ده، یعنی دنیم دا دعویداره ده اوکه دخمس اوربع؟

جواب: مهر موجل کیدل چی ثابت سی نوهنده دمهر مطالبه دخاوند په مرګ یاپه طلاق ورکولو کولی سی، کذافی العالمګیریه وهذا لان الغایة معلومة فی نفسها وهو الطلاق اوالموت (باب المهر ([1])) ترجمة: اودا ددی دپاره چی غایة اومده معلومه ده چی طلاق یا مرګ دی. الخ اوپه درمختار کی دی: الا التاجیل لطلاق اوموت فیصح للعرف ص **۳۵۹** شامی ([2]) جلد۲. ترجمه: مګر موده دمهر په وخت دطلاق یا دمرګ صحیح ده دعرف په وجه (ددی څخه مخکی نه دنصف دعوٰی کولی سی اونه دخمس اونه دربع. ظفیر)

چی مهر موجل ثابت سی نو ددی داخیستو ښځه کله مستحقه کیږی؟ سوال: (۱۳۲۵) که دمدعیه دطرفه ددی دعوی موافق مهر بلاصراحت مقرر کیدل ثابت نه سی اودزید قول چی مهر موجل مقرر سی اوتسلیم سی نوهنده به کله دمهر اخیستو حقداره وی؟

جواب: که په مهر کی دمعجل یادموجل څه تصریح نه وی اودښځی دعوی دعدم تصریح ثابته سی نودعرف موافق به حکم وی اوچی مدار پرعرف اوپر رواج دی نوعرف اورواج ددغه ځای کتل په کاردی چی په عام طور باندی کله مهر مطلق وی اوڅه تصریح نه وی نومهر کله ورکول کیږی (قال فی فتح القدیر بل المعتبر فی المسکوت العرف الخ ص ۹۱ جلد۲) یعنی معتبردی په مهرکی چی څه تصریح عرف اورواج ددی ښاردی (اوس که هلته عرف دموجل دی نودطلاق یادمرګ څخه وروسته دمطالبی حق سته مخکی نسته. ظفیر). فقط

په مهر مطلق کی رواج دورکول کیدو نه وی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۳۲۶) اوکه مهر صراحةً ثابت سی چی دامروجه په اهل سنت سیدانو کی چی مهر بلاصراحة مقرر سی نو په حالت دژوند دښځی خاوند دښځی ته دڅه حصی ورکول کیدو رواج نسته، نوشرعًا هندی ته دغه وخت څه حصه ملاویدی سی اوکه نه؟

جواب: چی کله په مهر کی څه تصریح اوقیدنه وی اوعرف اورواج ددغه ځای داوی چی دنکاح ترقیام او دزوجینو ترژوند پوری مهر نه ورکول کیږی، نوددی موافق به عمل درامد وی اوهندی ته به څه حصه دمهرداوخت نه سی ورکول کیدی. دفتح القدیر عبارت مذکوره تیرسو اودا رکم دفتح القدیر په عبارت مذکوره کی دقاضی خان څخه نقل دی: فإن لم یبینوا قدر المعجل ینظر إلی المرأة وإلی المهر أنه کم یکون المعجل لمثل هذه

([1]) عالمګیری مصری ج۲ ص۲۹۸ باب المهر السابع فصل حادی عشر ج۴ ص۳۱۸. ظفیر

([2]) وګوری ردالمحتار مطبوعه استنبول ج۲ ص۴۹۳، باب المهر ط. س. ج۳ ص۱۴۴. ظفیر

المرأة من مثل هذا المهر فيعجل ذلك ولايتقدر بالربع والخمس بل يعتبر المتعارف فإن الثابت عرفا كالثابت شرطا [۱] الخ. نوکه بیان ونه کړی دمقدار دمعجل نوښځی ته اومهر ته به کتل کیږی چی داسی ښځی ته په دومره مهر کی څومره مهر معجل ورکول کیږی نو دومره دی فی الحال ورکول سی دڅلورمی اودپنځمی حصی تعین اوتحدید نسته بلکی دمتعارف اعتباردی، ځکه چی کم امر په عرف سره ثابت سی هغه داسی دی لکه چی په شرط سره ثابت وی . فقط

دثبوت درواج دپاره څه په کاردي: **سوال**: (۱۳۲۷) دهندی دپلار داقول چی دثبوت درواج دپاره دعدالت تجویز ضروری دی صحیح دی اوکه نه اوثبوت درواج دپاره دیوحاکم یا دیو قاضی دفیصلی ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: دثبوت دعرف اودرواج دپاره دڅه فیصلی اودعدالت دتجویز ضرورت نسته بلکه دښار عرف اورواج ددغه ځای دواقعاتو څخه معلومیږی، دهندی دپلار قول په دی باره کی صحیح نه دی لکه چی دقاضی خان دمذکوره عبارت: ینظر الی امراة والی المهر الخ. څخه واضحه ده. فقط

که ښځه دخاوند مال واخلي او ويې تښتي نودابه دمهر څخه ليری کيږی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۲۸) زما ښځه زماپه نه وجود کی زما داجازی څخه بی غیر دخپل اخنبی سره په نیت دبدکاری وتښتیده اودځان سره یي مال اوکالی چی په دی کی زما دلور کالی هم وه چی تقریبًا دپنځلسو سوو روپو وه یووړه اوددی مهر زر روپی دی، نوپه دی صورت کی دا دمهر دعویداره کیدی سی اوکه نه مهر یي اداء سو؟

جواب: که ښځه دمال اوداسباب دخاوند داوړو اقرار وکی اوداپه مهر کی حساب کړی نو حساب کیدی سی کنې نو نه حسابیږی. فقط

دزناء په وجه يي ښځی ته طلاق ورکی نودا به دمهر مستحقه وی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۲۹) زید خپلی ښځی زناکاری ته طلاق ورکوی نودا ښځه به دطلاقو څخه وروسته دمهر مستحقه وی اوکه نه؟

جواب: که کوروالی یاخلوت سوی وی نودا ښځه دطلاق څخه وروسته دکل مهر حقداره ده [۲] (اوکه صحبت یاخلوت نه وی سوی نودنیم مهر. ظفیر)

---

(۱) وګوره فتح القدير باب المهر وعالمگيرى ج۱ ص۲۹۷، ط. ماجدية ج۱ ص۳۱۸ باب المهر الباب السابع فصل حادی عشر. ظفير

(۲) ويتاكد عند وطؤ او خلوة صحت من الزوج اوموت احدهما (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط. س. ج۳ ص۱۰۲). ظفير

په وخت دمرګ مخکې دخلوت څخه ښځه ولې پوره مهر اخلي؟ سوال: (۱۳۳۰) په صورت دمهر مقررولو په وخت دنکاح کې چې دخلوت څخه مخکې خاوند مړسی نودفقه دکتابونو څخه دکل مهر واجب الاداء کیدل معلومیږي. فالمسمّٰی عند الوطی اوالموت احدهما سواء کان الموت قبل خلوة اوبعده. خوددی حکم ثبوت دکم ځای څخه دی دقرآن کریم دآیت څخه یا دحدیث څخه؟

جواب: په مرګ دیوه دزوجینو کې پوره مهر لازمیدل په اجماع ثابت دی لکه چې په فتح القدیر کې دي: ولا اختلاف للاربعة فی هذا (۱). اوداحدیث چې کم په عدم تسمیې دمهر اودمرګ څخه دقبل الدخول په صورت کې په پوره مهر لازمیدو کې راغلی دی ددی اجماع دلیل دی چې هغه حدیث پاك دادی: وعن علقمة عن ابن مسعود أنه سئل عن رجل تزوج امرأة ولم يفرض لها شيئا ولم يدخل بها حتى مات فقال ابن مسعود لها مثل صداق نسائها لا وكس ولا شطط وعليها العدة ولها الميراث فقام معقل بن سنان الأشجعي فقال قضى رسول الله صلى الله عليه وسلم في بروع بنت واشق امرأة منا بمثل ما قضيت ففرح بها ابن مسعود. رواه الترمذي وأبوداود والنسائي والدارمي، مشکوٰۃ شریف (۲). فقط

ښځه مهر موجل په ژوند کې وصولولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۳۱) زید دځلور ویشتو کالو راهیسی خپلی ښځی ته نان نفقه نه ورکوی مقرر مهر پنځه زره روپی دی چې په دی کې دوې حصی موجل اویوه حصه معجل ده، چې دده څخه مهر معجل خو په لږ لږ وصول سو خواوس مهر موجل دزید پرذمه دی اوزید ددی داداء کولو څخه منع کوی اودزید څه جائیداد هم داسی نسته چې دوفات څخه وروسته دوصولیدو امید وی اوس هنده مهر موجل وصولولی سی اوکه نه؟

جواب: دمهر موجل دوصول وخت فقهاؤ مرګ یا طلاق لیکلی دی یعنی چې کله دمهر موجل دپاره څه وخت نه دی مقرر سوی نوپه وخت دفرقت وصولیدی سی فرقت په طلاق وی اوکه په مرګ. قال فی العالمګیریه: لا خلاف لأحد أن تأجيل المهر إلى غاية معلومة نحوشهر أوسنة صحيح وإن كان لا إلى غاية معلومة فقد اختلف المشايخ فيه قال بعضهم يصح وهو الصحيح وهذا لأن الغاية معلومة في نفسها وهو الطلاق أو الموت الخ كذا في المحيط (۳) عالمګیریة. فقط

---

(۱) مشکوٰۃ شریف باب الصداق ص ۲۷۷. ظفیر
(۲) مشکوٰۃ شریف باب الصداق ص ۲۷۷. ظفیر
(۳) عالمګیری مصری کتاب النکاح باب سابع ج۲ ص۲۹۸، ط. ماجدیه ص۳۱۸. ظفیر

دمور اوپلار داجازي څخه بغير ښځه مهرمعاف کولی سي اوکه نه؟ اودښځي دخاوند داختلاف په صورت کي څه حکم دي؟ سوال: (۱۳۳۲) بالغه ښځه بی داجازی دمور اوپلاره مهر معاف کولی سی اوکه نه؟ که خاوند شاهدان راولی چی ښځی مهر معاف کړیدی اوښځه منکره وی نوپه دی صورت کی دعوٰی به مسموع وی اوکه نه؟

جواب: بالغه ښځه په خپله رضا اوپه خوښی خاوند ته مهر معاف کولی سی ([1]) اوخاوند که په دوو عادلو ثقه شاهدانو سره معافی دمهر ثابته کړی نو دښځی انکار معتبرنه دی او دعوٰی دښځی په باره دمهر کی غیر مسموع ([2]) ده. فقط

دمهر دمعافي څخه وروسته ښځه بيا دمهر مستحقه کيږي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۳۳) که ښځه په رضا اوپه خوښی خاوند ته مهر معاف کړی دشاهدانو په مخکی نودمعاف کولو څخه وروسته بیا ښځه مستحقه دمهر کیدی سي اوکه نه؟

جواب: که ښځه مهر معاف کړی نومهر معاف کیږی او وروسته دمعاف کولو څخه بیا ښځی لره عندالله دمهر اخیستل دخاوند څخه صحیح نه دی خوکه ښځه دمهر معاف کولو څخه منکره وی اودخاوند سره دوه عادل شاهدان دمعافی نه وی دمهر، نو بیابه قاضی حکم دورکولو دمهر کوی ([3]). فقط

مهر چي مطلق وي نوښځه دا دعوٰی کولی سي چي مهر راکړه کنې نو زه ستاسره نه ځم:

سوال: (۱۳۳۴) دهندی مهر په وخت دنکاح مطلق وو، دمعجل یا دموجل قید نه وو اوس هنده دمور اوپلار سره ده اوددی خواهش دی چی خپل مهر وصول کړم او دنفقی وغیره انتظام وسی نوبیابه دخاوند کره ځم نوپه دی صورت کی هنده مهر وصولولی سی اوکه نه؟

جواب: هندی ته اوس دمهر دوصولولو اختیار نسته ځکه چی په مهر مطلق کی عرفا دوصولولو دمهر وخت مرګ اویا طلاق دی باقی خاوند که فی الحال مهر ورکړی نوڅه حرج نسته خوجبراً هنده اوس دانه سی وصولولی ([4]) اودهندی نفقه پرخاوند هلته لازمه

([1]) وصح حطها اوبعضه عنه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۴. ط. س. ج۳ ص۱۱۳ مطلب فی حط المهر والابراء عنه). ظفیر

([2]) وما سوٰی ذالك من الحقوق يقبل فيها شهادة رجلين او رجل وامراتين سواء كان الحق مالا اوغير مال مثل النكاح والطلاق الخ (هدايه كتاب الشهادات ج۳ ص۱۳۸، ط. س. ج۳ ص۴۲۵). ظفير

([3]) قال ﷺ البينة على المدعى واليمين على من انكر (هدايه ج۳ ص۱۸۷). ظفير

([4]) ولها منعه من الوطى ودواعيه والسفر بها الخ لاحد ما بين تعجيله من المهر كله اوبعضه اوقدر ما يجعل لمثلها عرفا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۲، ط. س. ج۳ ص۱۴۳ مطلب فى منع الزوجة نفسها لقبض المهر). ظفير

ده چې هنده دخاوند کورته دتلو څخه انکار نه کوی خاوند يې چې په کم ځای کې ساتي هم هلته به وی ([1]). فقط

دطلاق بائن څخه وروسته چې کله دوباره واده وکړی نو مخکې ښځه مهر اخيستی سی اوکه نه؟ **سوال:** (۱۳۳۵) ديوې ښځې نکاح ديوسړی سره په مقرره مهر وسوه دری ځلور مياشتې وروسته خاوند ښځې ته طلاق بائن ورکی ځوورځې وروسته يې دشرع په وجه ددی سره بيا نکاح ثانی وکړه اودوهم مهر په دوهم وار نوی مهر په وعده دعند الطلب مقرر سو اودمخکې څه تصفيه ونه سوه نوپه داسې صورت کې اول مهر داداء کولو قابل دی اوکه نه؟

جواب: دوطی اودخلوت صحيحه څخه وروسته چې طلاق وسی نوپوره مهر لازميږی او ددوهمې نکاح مهر جلا واجب دی اول مهر ادا کول په کاردی اودوهم هم. ويتاكد عند وطى اوخلوة صحت ([2]) الخ. درمختار . فقط

دمهر مقدار کم او زيات څه دی؟ : **سوال:** (۱۳۳۶) دشرع محمدی دمهر کم مقدار اوزيات مقدار څه دی؟

جواب: په شريعت دنبی کريم ﷺ کی کم از کم مهر لس درهمه يعني پاوکم دری روپی کيږی اودزيات څه حد نسته. هکذا فی کتب الفقه ([3]). (دادی واضحه وی چې دلسو درهمو وزن صحيح يونيم ديرش ماشی سپين دی دسپينو زرو قيمت کله زيات اوکله کم وی چې دمفتی علامؒ په وخت دلسو درهمو قيمت پاوکم دری روپی وو په سنه ۱۳۳۴، اوپه دی وخت کې سنه ۱۳۹۱هـ کی توله په اوه روپی ده نودلسو درهمو قيمت پاوباندی اتلس روپی سو نودپاو باندی اتلسو څخه کم مهر نه سی کيدی، والله اعلم)

چې کم مهر مقرر سو هم هغه واجب دی يا زيات اوکه کم؟ **سوال:** (۱۳۳۷) دزيد نکاح دشپاړسو کالو په عمر دهندی سره وسوه چې دهغه عمر ديارلس کاله وو، نوچې څومره مهر په وخت دنکاح سوی وو هم هغه واجب دی اوکه نه؟

جواب: چې کم مقدار دمهر په وخت دنکاح مقرر سوی وو هم هغه به قائم وی اوهم دا مقدار به پر ذمه دخاوند واجب وی خو که مخکې ددخول او دخلوت څخه خاوند طــلاق

([1]) فتجب للزوجة على زوجها ولوصغير الخ منعت نفسها للمهر الخ لاخارجة من بيته بغير حق وهى الناشزة حتى تعود (ايضا باب النفقة ج٢ ص٨٨٦، ط.س. ج٣ ص٥٧٢ مطلب اللفظ جامد ومشتق). ظفير

([2]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المهر ج٢ ص٤٥٤. ظفير

([3]) اقله (اى المهر) عشر دراهم الخ وتجب العشرة ان سماها اودونها ويجب الاكثر عنها ان سمى الاكثر (درمختار) يجب الاكثر اى بالغا ما بلغ (ردالمحتار باب المهر ج٢ ص٤٥٢، ط. س. ج٣ ص١٠٢). ظفير

ورکړی نونیم مهر په ذمه دخاوندواجب دی (۱). فقط

دمهر یوه حصه یي ورکړه نو اوس دطلاق په وخت دکل مهر حقداره ده اوکه نه؟ سوال: (۱۳۳۸) په وخت دنکاح تشریح دمهر معجل یا دموجل نه وه سوی اودنکاح څخه وروسته څه حصه دمهر زید هندی ته ورکړه نو دطلاق په وخت به ټول مهر اداء کول وی اوکه څه؟

جواب: دطلاق په وخت به کل مهر باقی پاته ادا کول وی (۲). فقط

دطلاق دنه ورکولو په صورت کی څه حکم دی؟ سوال: (۱۳۳۹) په صورت دطلاق نه ورکولو کی دکل مهر دعویٰ کیدی سی اوکه نه دیوه څه حصی؟ اوکه نه سی کیدی؟

جواب: نه سی کیدی. فقط

دطلاق په طلب کولو خاوند وویل مهر معاف کړه نو دانجلۍ پلار ذمه واخیسته اوس یي طلاق ورکی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۳۴۰) یوسړی خپل زوم ته وویل چی ته زما لور ته طلاق ورکړه نوده وویل چی که دامهر معاف کړی نوزه به طلاق ورکړم دښځی پلار رضامن سو او وی ویل چی زه به په خپله دلور مهر معاف کړم پردی بناء خاوند طلاق ورکی او وروسته نه پلار مهر باندی معاف کړی اونه انجلۍ معاف کی په دی صورت کی پر خاوند مهر اداء کول واجب دی اوکه څه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق وسو اوکه ښځه یې معاف نه کړی نوپلار ذمه دار دی او دهغه څخه دی واخلی. فقط

چی څه مهر موجل دی نوپه دی کی څه معجل کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۴۱) دهندی عقد دزید سره په یوه اشرفی اوپه پنځو دینارو وسو اوټول مهر په نکاح نامه کی په لفظ دمهر موجل لیکل سویدی ښځه اوخاوند ژوندی دي او نکاح يي قائمه ده اوس سوال دا دی چی دلوړ مذکور مهر څه حصه مهر معجل کیدی سی؟ که کیدی سی نوددی به څه مقدار وی؟

جواب: چی کله تمام مهر موجل مقرر دی نوددی هیڅ مقدار معجل کیدی نه سی او فی الحال مطالبه دجزء هم نه سی کیدی (۳). فقط

---

(۱) ولو سمی اقل من عشرة فلها العشرة (الی قوله) ولو طلقها قبل الدخول تجب خمسة عند علمائنا (هدایه باب المهر ج۲ ص۳۰۴). ظفیر

(۲) وبالطلاق یتعجل الموجل (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۳ ، ط.س. ج۳ ص۱۴۴). ظفیر

(۳) وان کان لا الی غایة معلومة قال بعضهم یصح وهو الصحیح وهذا لان الغایة معلومة فی نفسها وهو الطلاق او الموت (عالمگیری کشوری ج۳ ص۳۳۹ ، ط. س. ج۳ ص۳۱۸ باب المهر السابع عشر فصل حادي عشر). ظفیر

خنثٰی ښځې ته به مهر ورکول کیږي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۴۲) چې کله دهندی هیڅ علامه دمذکر اودمونث نسته اونه یي تیان سته صرف دمتیازو لار یې په شان دیوتنګ سوری ده نوپه داسی حالت کی ددی مهر به نصف لازم وی اوکه نه؟

جواب: چې کله هنده خنثٰی مشکل ده لکه چې دسوال څخه ښکاره ده نوددی نکاح منعقده نه سوه نوددی وجه څخه مهر به لازم نه وی نه کل اونه نصف، درمختار ([1]). فقط

په مهر کی به قرض شمار وی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۴۳) دښځی مهر به په قرض کی شمار وی اوکه نه؟

جواب: دښځی مهر ورکول پرذمه دخاوند دی اوددی ادا کول دترکه دتقسیم څخه مخکی دی (نومعلومه سوه چې په قرض کی به شمار وی ([2]). ظفیر)

دمزنیه سره یې نکاح وکړه بیایي طلاق ورکړی نومهر به څومره ورکول کیږی؟ سوال: (۱۳۴۴) زید دزینب سره زنا وکړه اوپه ګیډه یې ماشوم پیداسو نودزینب نکاح دزید سره وسوه چې ددری ورځو هم بستر کیدو څخه وروسته یې دری طلاقه ورکړل نوزینب ته به پوره مهر ورکول کیږی اوکه نیم؟

جواب: په دی صورت کی دزینب سره نکاح دزید سره صحیح سوی وه ([3]) او دصحبت څخه وروسته په طلاق ورکولو سره پوره مهر دزینب پرذمه دزید لازم اوواجب دی ([4]).

خاوند وویل چې زما داجازې بغیر هیچیري مه ځه کنې نو مهر به نه درکوم، اوښځه ولاړه نو څه حکم دی؟ سوال: (۱۳۴۵) زید خپلی ښځی هندی ته وویل چې که ته زما داجازی څخه بغیر اوزما په غیاب کی یوځای ولاړی نوستا مهر به زه نه درکوم نوبیا دوی هفتی وروسته دخاوند په غیاب کی دا دقریبانو کره ولاړه نوشرعًا څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی مهر ساقط نه سو اودزید پرذمه دهندی مهر لازم دی اوزید به دا مهر ورکوی ([5]). فقط

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۳۵۲. ط. س. ج۳ ص۴ ای ان ایراد العهد علیها لا یفید ملك استمتاع الرجل بهما لعدم محلیتهما له (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۳۵۲. ط.س. ج۳ ص۴). ظفیر

([2]) افاد ان المهر وجب بنفس العقد (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۰۲). ظفیر

([3]) وصح نکاح حبلی من زنا الخ ثم لو نکح الزانی حله له وطوها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی الحرمات ج۲ ص۴۰۱ ، ط.س. ج۳ ص ۴۸). ظفیر

([4]) وتجب العشرة ان سماها اودونها ویجب الاکثر منها ان سمی الاکثر ویتاکد عند وطی اوخلوة صحت من الزوج (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴ ، ط.س. ج۳ ص ۱۰۳). ظفیر

([5]) افاد ان المهر وجبت بنفس العقد الخ وانما یتاکد لزوم تمامه بالوطی ونحوه (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۵۴ ، ط. س. ج۳ ص۱۰۳). ظفیر

مخکې په دوه نیم سوه نکاح وسوه او بیایې تجدید دنکاح دڅوارلسو زرو څخه په زیاتو وکړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۳۴۶) مذین نومي سړی په ۲۷ محرم سنه ۱۹۳۷ کی دزهرا بی بی سره په معاوضه ددوه نیم سوه روپو مهر موجل عقد وکی اوبیا اتلس ورځی وروسته په صفر سنه ۱۹۳۸ بذین مذکور دمذکوره ښځه سره په څوارلس زره اوه نیم سوه روپی مهر مقرر کی اوتجدید دنکاح یې وکی نودا شرعًا جائزدی اوکه نه؟

جواب: دمنکوحی سره عقد ثانی فضول دی خو دمهر اضافه صحیح ده ([1]). فقط

په رضاعی خور ورور کی واده وسو نومهر لازم دی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۴۷) زید اوفاطمی دیوي دریمی ښځی چی پردی ده تی ورودی دزید او دفاطمی قریبانو ددوی نکاح وکړه نودا عقد صحیح دی اوکه نه؟ په هرحال مهر دموطوئة پرناکح لازم دی اوکه نه؟

جواب: نکاح ددی دواړو رضعینو (شیدی رودونکو) په خپل مینځ کی صحیح نه ده، په دوی کی تفریق کول پکاردی. په صورت دوطی کی مهر لازم دی ([2]). فقط

بی مهره نکاح وسوه او دخلوت څخه مخکی یې طلاق ورکی نومهر به اوس څه وی؟ سوال: (۱۳۴۸) دیوشپاړس کلن سړی نکاح داوه کلنی نابالغی انجلۍ سره وسوه په وخت دایجاب اوقبول دمهر ذکرهم ونه سو اونه نکاح نامه ولیکل سوه نوسړی په وجه دنابالغتیا ښځی ته طلاق قبل الوطی ورکړی نوپه دی صورت کی دمهر په باره کی دشریعت څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی شرعی حکم دادی چی کله په وخت دنکاح مهر مقرر نه سو او طلاق ددخول اودخلوت څخه مخکی وسو نوهیڅ مهر لازم نه دی، صرف متعه یعنی دری جامی او ددی قیمت لازم دی ([3]). فقط

دبد اخلاقی دوجه طلاق ورکول سی نوهم به مهر ورکول کیږی؟ سوال: (۱۳۴۹) دزید عقد

([1]) نکاح خومخکي سوی وه نودا دوهمه نکاح عبث سوه البته په مهرکي زیات والی دخاوند دطرفه څخه راغی: او زید علی ما سمی فانها تلزمه بشرط قبولها في المجلس الخ وفی الکافی جدد النکاح بزیادة الف الزمه الالفان (درمختار) حاصل عبارت الکافی تزوجها في السر بألف ثم في العلانية بألفين في الأصل أنه يلزمه عنده الألفان ويكون زيادة في المهر وعند أبي يوسف المهر هو الأول لأن العقد الثاني لغو فيلغو ما فيه وعند الإمام أن الثاني وإن لغا لا يلغو مافيه من الزيادة (ردالمحتارباب المهر ج۲ ص۴۲۳، ۴۲۴. ط.س. ج۳ ص۱۱۱). ظفیر

([2]) فیحرم منه ای بسببه ما یحرم من النسب رواه الشیخان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الرضاع ج۲ ص۵۵۷، ط.س. ج۳ ص۲۱۳) ویجب مهر المثل فی نکاح فاسد بالوطؤ لابغیره (ایضا باب المهر ج۲ ص۴۸۱ - ۴۸۲، ط.س. ج۳ ص۱۳۱ مطلب فی النکاح الفاسد). ظفیر

([3]) وتجب متعة لمفوضة وهی من زوجت بلا مهر طلقت قبل الوطی وهی ورع وخمار ومحلفة (درمختار) ولودفع قیمتها اجبرت علی القبول (ردالمحتارباب المهر ج۲ ص۴۲۱، ۴۲۲، ط.س. ج۳ ص۱۱۰ مطلب فی احکام المتعة). ظ

دسلمه سره وسو په يوسل پنځه اويا روپۍ په سكه عثمانيه دعقد څخه تريوه كاله پوری ددی پرمخ نقاب پروت وو هروخت به په كوروالی اوپه خدمت ناراضه وه وروسته نقاب يې لوړكی فحش كلامی او نافرمانی يې دخاوند سره وكړه نو زيد دداسی حركاتو څخه تنگ سو اوماهانه خوراك يې ورته وركی اودمور كره يې وليږله اومهر موافق دآمدني مياشتي په ادا كولو غواړی خوددی مور مهر جلا جلا نه قبلوی چی په يووار يې راكړه او دزيد ديووار ادا كولو وس نسته نودداسی ښځی سره بايد څه وسی ايا نان او نفقه دزيد پر ذمه واجب الاداء ده كه دبداخلاقی او دنافرمانی په بناء طلاق وركړی نودمهر به څه عائد وی په دی باره كی څه حكم دی؟

جواب: مهر كه موجل دی يعنی فی الحال وركول دمهر مقرر نه وی نوددی دوصولولو وخت فقهاؤ طلاق يامرگ ليكلی دی مخكی دطلاق څخه ښځه مطالبه نه سی كولی (۱) اوكه مهر معجل دی نوښځه فی الحال ددی مطالبه كولی سی خوكه دخاوند په يووار وركولو طاقت نه وی نوپه قسطونو دی ادا كړی اوچی كمه ښځه دخاوند دكوره بی له اجازی څخه په وجه دنافرماني ولاړه سی نوددی نان او نفقه ساقطه ده، خوپه مسئوله صورت كی چی خاوند په خپله داپه وجه ددی دبدخويی دمور كره ليږلی ده، نوپه دی صورت كی نفقه دخاوند پر ذمه لازم ده (۲). فقط

دخلوت څخه وروسته په طلاق وركولو به مهر لازم وی اوكه نه؟ **سوال**: (۱۳۵۰) زيد دهندی سره عقد په څلويښت روپی وكړی اوقبل دوطی اودخلوت صحيحه څخه زيد هندی ته طلاق بائن وركی او دنكاح څخه يې خلاصه كړه اودمهر وركولو څخه انكاری دي، او دموضح القرآن څخه آيت: لاجناح عليكم الخ په دليل كی راوړی، نوپه دی صورت كی به مهر وركول وی اوكه نه؟

جواب: په مذكوره صورت كی په قبل الدخول اودخلوة څخه په طلاق وركولو باندی نيم مهر لازم دی لكه چی باری تعالی فرمايي: وان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن وقد فرضتم لهن فريضة فنصف مافرضتم. الايه (۳) اودايت د: لاجناح عليكم الاية، (۴) څخه وروسته دی ددی تفسيرهم په موضح القرآن كی وگوره دغه مخكی حكم دمهرنه واجبيدل

---

(۱) ويتأكد المهر عند وطؤ او خلوة الخ (درمختار) واذا تأكد المهر اما ذكر لا يسقط بعد ذلك وان كانت الفرقة من قبلها لان البدل بعد تاكده لا يحتمل السقوط الا بابراء (رد المحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۰۳).

(۲) فتجب النفقة المزوجة بنكاح صحيح الخ على زوجها الخ ولوهی فی بيت ابيها اذا لم يطالبها الزوج بالنقلة به يفتی وكذا طالبها ولم تمنع (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۲ - ۸۸۹، ط.س. ج۳ ص۵۷۲).

(۳) سورة البقرة : ركوع ۱۳. ظفير

(۴) ايضا. ظفير

په هغه صورت کی دی چی مهر بالکل مقرر سوی نه وی اوقبل الدخول دخلوة څخه طلاق وسی اوچی کله دمهر مقدار مقرروی لکه چی په دی صورت کی دی اوطلاق قبل الدخول والخلوة واقع سی نونیم مهر لازمیږی، په دی اٰیت: وان طلقتموهن الاٰیة. کی ددی بیان دی اوپه کتابونو دفقه کی هم دامسئله داسی ده [۱]. فقط

دښځی څخه یې مهر معاف نه کی نواوس به څه کوی؟ سوال: (۱۳۵۱) دبکر ښځه مړه سوه اوبکر دنه طاقت دوجه څخه نه مهر اداکړی اونه یې مهر معاف کی اوس که دښځی دمور وغیره څخه یې معاف کړی نومعاف کیږی اوکه نه چی ښځه بی اولاده مړه ده؟

۲. دمرحومی دمهر حقدار څوك څوك دی؟

۳. داسی صورت سته چي دی داداء کولو قابل نه وی چی دمرحومی دمهر دقرض څخه خلاص سی اوپه قیامت کی ده ته سزاء ورنه کول سی.

۴. که یوسړی په خلوت کی په خپلی ښځی مهر معاف کړی نومعاف به وی اوکه نه؟ اوکه نه دشاهدانو ضرورت به وی؟

جواب: ۱\. دښځی دمرګ څخه وروسته چی دښځی دوارثانو څخه که مهر معاف سی نو مهر معاف کیږی دمهر دادا کولو طاقت یي وی اوکه نه؟ اوپه مهرکی دخاوند هم حق دی دده دمعاف کولو خو ضرورت نسته [۲].

۲\. دښځی وارثانو ته به داسی ورکول کیږی لکه چی دزوجی مملوکه متروکه مال هغوی ته ورکول کیږي.

۳\. دمعاف کولو څخه علاوه بل څه صورت یې نسته.

۴\. که په تخلیه کی ښځه معافي وکړی نوعند الله معاف سو خو که دقاضی مخ ته خبره ولاړه سی نوبغیر دشاهد یا دښځی داقراره به مهر نه ساقطیږی. فقط

دشلو کالو څخه وروسته دمهر دمطالبی حق سته اوکه نه؟ سوال: (۱۳۵۲) زید وایي چی ما خپلی ښځی ته شل کاله وسوه چی طلاق ورکړی دی خوتراوسه زید دخپلی ښځی دمهر قرض نه دی ادا کړی، نوپه داسی صورت کی دزید ښځی ته دمهر دمطالبی حق شرعًا حاصل دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید ښحه دخپل مهر مطالبه شرعًا کولی سی. فقط

آیا څه موده داسی سته چی دهغه څخه وروسته دمهر مطالبه جائزنه وی؟ سوال: (۱۳۵۳) آیا

---

(۱) ویجب نصفه بطلاق قبل وطؤ او خلوة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۲، ط.س. ج۳ ص۱۰۱). ظفیر

(۲) دخاوند حصه دښځی په ترکه کی نیمه ده که بچی نه وی کنې څلورمه حصه ده (سراجی). ظفیر

شرعًا څه داسی موده سته چی دهغه په تیریدو دمهردمطالبی حق دښځی پاته نه سی؟

جواب: شرعا په تیریدو دمودی حق دیو وارث یا دحقدار نه ساقطیږی ولي چی په شامی کی دی. قالوا ان الحق لا یسقط بالتقادم ([1]).

په کمه ناجوړی کی یی چی حق دمهرمعاف کی هم په هغه ناجوړی کی ښځه مړه سوه نومهر معاف سو اوکه نه؟ **سوال**: (۱۳۵۴) ناجوړی هندی خپل خاوند ته مهر په دی مضمون معاف کی چی زه په ډیرو ناجوړیانو کی مبتلاء یم نو ددی وجه څخه زه خپل مهر تاته بخښم ددی لیکلو څخه وروسته په همدغه مرض کی دا لس ورځی وروسته مړه سوه نو اوس دښځی وارثان شرعًا په مهر کی حصه اخیستی سی اوکه نه؟

جواب: په مرض الموت کی مهر معاف کول صحیح نه دی نوکه باقی وارثان دمهر معافی نه منی نوهغوی خپله حصه دمهر اخیستی سی په درمختار کی دی دمرض الموت هبه وغیره په حکم دوصیت کی دی اوپه حکم د: لاوصیة لوارث ([2]). دوارث دپاره وصیت نه صحیح کیږی مګر هلته چی باقی وارثان راضی وی. فقط

آیا کونډه چی نکاح وکړی نودمهر او دترکه حقداره نه پاته کیږی؟ **سوال**: (۱۳۵۵) زید وفات سو دده دوه دری نابالغه بچی اویوه ښځه ده زید په خپل ژوند کی څو متولیان مقرر کړیدی چی دهغوی په نګرانی کی دده دپسمانده ګانو پالنه کیده دزید ښځه ځوانه ده اودوهمه نکاح کول غواړی متولیان وایي چی که دوهمه نکاح یي وکړه نودمهر او دترکه څخه به ورته هیڅ څه نه ورکول کیږی نودا خبره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دزید دښځی چی کمه حصه شرعی دزید په جائیداد کی ده اوچی کم ددی مهر دخاوند پر ذمه واجب دی داپه هرحال به ښځی ته ورکول کیږی دادوهم عقد وکړی اوکه نه، اودمتولیانو داویل چی که دی دوهم عقد وکی نودیته به هیڅ هم نسی ورکول کیدی غلط اوخلاف دشرع دی ښځه په هرحال دخپلی شرعی حصی اودمهر حقداره اومالکه ده، که دېته څه ورنه کول سی نودابه ظلم اوګناه کبیره وی اودحق العباد مواخذه به ددوی په ذمه پاته وی ([3]). فقط

([1]) وګوری الاشباه والنظائر مع الحموی کتاب القضاء ص۲۱۴، ردالمحتار ط.س. ج۳ ص۷۲۰ کتاب الدعوٰی مطلب هل ینبغی النهی بعد موت السلطان. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الوصایا ج۵، ط.س. ج۳ ص۶۵۶. ظفیر

([3]) أفاد أن المهر وجب بنفس العقد الخ وإذا تأکد المهر بما یذکر لا یسقط بعد ذلك وإن کانت الفرقة من قبلها لأن البدل بعد تأکده لا یحتمل السقوط إلا بالإدعاء کالثمن إذا تأکد بقبض المبیع (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۰۲). ظفیر

مقرره مهر يې دمقدمه په ذريعه واخيستې بيا خاوند مخکې مهر قائم وساتې نودادوهم اضافي مهر ښځه اخيستې سي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۵۶) امة الغنی نومي انجلۍ پنځه زره روپی مهر دخاوندپه ذريعه دمقدمی وصول کی او وروسته خاوند موافقت پيداکی اودمذکوره ښځی همدغه پنځه زره روپی مهر يې دوباره قائم کی اووی منی، اوس چی ددی خاوند وفات سويدی دامذکوره ښځه شرعا دامکرر مهر دترکی دخاوند څخه اخيستی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ښځه پنځه زره روپی دخاوند دترکی څخه داخيستو مالکه ده ځکه چی دادوباره دخاوند پنځه زره روپی مهر منل په زياتولو به محمول سی اوپه ذمه دخاوند به واجب الاداء وی. کما يظهر من فروعات باب المهر من الدرالمختار والشامی وما فرض بتراضيهما الخ بعد العقد الخ اوزيد علی ماسمی فانها تلزمه بشرط قبولها فی المجلس الخ بعد العقد الخ اوزيد علی ما سمی فانها تلزمه بشرط قبولها فی المجلس الخ درمختار، وفی الشامی وكذا لو اقر لزوجته بمهر وقالت قد وهبته له فانه يصح ان قبلت فی المجلس الخ [1] . فقط

ښځې مهر واخيستې او زيور يې جوړکړل او مطالبه يې باقي وساتله اوس ددې دمرګ څخه وروسته څه حکم دی؟ سوال: (۱۳۵۷) يوی ښځی دخاوند څخه مهر طلب کی خاوند مهر ادا کی خودمهر دورکولو په وخت ځوك شاهد نه وو، ښځی دمهر روپی واخيستی او کالی يي ځينی جوړ کړه اووايي غوستل اوخپل خاوند ته يي وويل مهر راکړه نوخاوند وويل چی مامهر درکړيدی ښځی وويل چی دهغه څخه خو ما کالی جوړکړه اودا کالی ستا په کورکی دی ماته ددی څه فائده ده ماته دوباره مهر راکړه خوخاوند دوباره مهر ورنه کی اوښځه وفات سوه نومهر دخاوند پرذمه باقی دی اوکه نه؟ که باقی دی نوچاته به ورکول کيږی؟

جواب: که دښځی وارثان مهر اداء کول نه منی اودخاوند سره دوه عادل شاهدان نه وی نو مهر پرذمه دخاوند لازم دی، نوکه ښځه بی اولاده مړه وی نونيم مهر به يي بيرته دخاوند سی اونيم به دنورو وارثانو سی، نوخاوند دی دوی ته نيم مهر ورکړی. فقط

دنکاح څخه وروسته پوره مهر يې ورکی خودخلوت څخه مخکې يې طلاق ورکی نوخاوند نيم مهر بيرته اخيستی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۵۸) يوسړی دخپلی ښځی سره نکاح وکړه او مهر يي هم ورکی خور خصت ونه سو يعنی قبل الخلوة يي طلاق ورکی نودی نيم مهر

---

[1] ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۲۳ ، ط.س. ج۳ ص ۱۰۹. ظفير

بیرته اخیستی سی که څه هم په مهر کی یې حیوان ساه والا ورکړی وی اودی مړسوی وی یا روپی وی اوهغه خرڅ سوی وی یاجامی وی هغه په اغوستو ختمي سوی وی؟

جواب: په دی صورت کی خاوند نیم مهر بیرته اخیستی سی که دغه شی په خپله نه سی واپس کیدی نوددی مثل یاقیمت دی بیرته ورکول سی. فی الدرالمختار قبضت الف المهر فوهبته له وطلقت قبل وطئ رجع علیها بنصفه لعدم تعین النقود فی العقود (۱).

دمرض الموت معافی جائز ده اوکه نه اودمهر معاف کولو شاهد نسته نوځوک دمهر داخیستو حقدار دی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۵۹) هنده په مرض الموت کی څه کالی جمات ته ورکړه او باقی زیور یې خپل نابالغ زوی خالد ته ورکړل خاوند ته څه عذر په خپل حق کی دغه وخت ونه سو دوفات څخه وروسته خاوند خپله حصه واخیسته خالد چی کله بالغ سو نو دمهر طلب یې وکی خاوند وایي چی مهر معاف سویدی خو دشاهدی څه ثبوت نسته نو په داسی حالت کی خالد دمهر اخیستو حقدار دی اوکه نه؟ اوپه مرض الموت کی که مهر معاف سی نومعاف کیږی اوکه نه؟

جواب: دخاوند دعوی دمعافی بی ددوو عادلانو شاهدانو څخه غیر مسموع ده (۲). او خالد په قدر دخپلی حصی به مهر وصول کړی اودخاوند حصه به ساقطه سی اودمرض الموت معافی باطله ده. فقط

په مهر دحضرت ام حبیبه رضی اللہ عنہا باندی نکاح وسوه نومهر به څومره وی؟ سوال: (۱۳۶۰) که یوسړی په مهر دحضرت ام حبیبه رضی اللہ عنہا باندی نکاح وکړه اوڅه تفسیر ددی ونه سو نوخاوند به ورکوی دځلورو سوو دینارو سره زر اوکه ددی قیمت په روپو کی اویاکه په وخت دعقد دځلورو سوو دینارو سرو زرو چی کم قیمت دی هغه به ورکول وی؟

جواب: دځلورو سوو دینارو سرو زرو چی کم قیمت په وخت دعقد کی وی (۳) نوهغه به ورکول وی (یودینار دځلور نیمو ماشو برابر وی. ظفیر)

دمهر معجل مطالبه به دهلک څخه وی اوکه دده دپلار څخه؟ سوال: (۱۳۶۱) نابالغه انجلۍ چی دعبدالکریم لورده نکاح دنذیر احمد بن بشیر احمد سره په ولایت دخپلو پلرونو په پنځه سوه روپی مقرر مهر وسوه نیم معجل اونیم موجل دی نودانجلۍ پلار دمهر معجل مطالبه دخاوند څخه کولی سی اوکه دهلك دپلار څخه؟

---

(۱) وګوری الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۷۴، ط.س. ج۳ ص۱۲۳. ظفیر

(۲) ونصابها (ای الشهادة) لغیرها من الحقوق سواء کان احق مالا اوغیره کنکاح وطلاق ووکالة ووصیة الغ رجلان اورجل وامراتان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۵، ط.س. ج۳ ص۷۲۵). ظفیر

(۳) عن ام حبیبة رضی اللہ عنہا کانت تحت عبدالله بن جحش فمات بارض الحشبة فزوجها النجاشی النبی ﷺ وامهرها عنه اربعة الالف درهم (مشکوٰة باب الصداق ص۲۷۷). ظفیر

جواب: چې هلك بالغ دی نو دانجلۍ پلار دخاوند څخه دمهر معجل مطالبه کولی سی او که خاوند نابالغه دی نوکه دده پلار ضامن دمهر داداء کولو سوی وی نوبیا دده څخه مطالبه دمهر کیدی سی کنې نو نه. (۱) فقط

دمهر څخه مراد: **سوال**: (۱۳۲۲) دمهر څخه څه مراد دی؟

جواب: مهر هغه مال دی چی کم په نکاح کی مقرر وی. (۲) فقط

مهر څومره کیدل په کاردي؟ **سوال**: (۱۳۲۳) مهر په یو حیثیت مقررول په کاردی اوکه شرعی؟

جواب: دواړه صحیح دی یعنی چی څومره مقررسی هغه لازم سو خوښه داده چی ډیر زیات نه وی (اقله عشرة دراهم الخ ویجب الاکثر منها ان سمی الاکثر (دمختار) ای بالغا (ردالمحتار ج۲ ص ۳۵۲. ظفیر). فقط

دمهر ادا کول ضروری دی اوکه معاف کول کافی دی؟ **سوال**: (۱۳۲۴) دمهر ادا کول ضروری دی اوکه یا بخښل یې کافی دی؟

جواب: اداء دمهر ضروری ده خوکه ښځی په خپله رضاسره معاف کی نوپه دی کی څه خبره نسته. فقط

معاف یې نه کی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۳۲۵) که منکوحه بی دوصولولو اودمعاف کولو مړه سوه نودامهر فی سبیل الله خرځ کول جائزدی اوکه ورثاؤ ته به ورکول سی؟

جواب: داوارثانو ته ورکول پکاردی یعنی خاوند به حصه ځینی لیری کړی باقی به نورو وارثانو ته ددوی حصه ورکړی. فقط

پیغله یي وویل نوزر روپی مهر یي مقرر کی بیا وروسته معلومه سوه چی دادبل په نکاح کی پاته سویده نو اوس به مهر څه وي؟ **سوال**: (۱۳۲۶) زید دهندې سره واده وکی دهندی پلار خپله لور پیغله په مجلس دنکاح کی ښکاره کړه اوزر روپی مهر مقرر سو، وروسته بیا معلومه سوه چی هنده منکوحه دعمر وه، نوددغه وجه څخه اوس په مقرره مهر دزرو روپو په باره کی څه حکم دی؟ دزید پر ذمه ادا کول لازم دی اوکه نه؟

جواب: مقرره مهر زر روپی په دی صورت کی واجب دی. کما فی الدر المختار: ولو شرط البكارة

---

(۱) وصح ضمانه الولی مهرها الخ وتطلب ایا شاءت من زوجها البالغ او الولی الضامن (درمختار) وقید بالضامن لان الکلام فیه ولانه لایطالب بلاضمان الخ لان المهر حال یلزم ذمة الزوج (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۰ – ۴۹۱ . ط. س. ج۳ ص۱۴۰). ظفیر

(۲) ثم عرف المهر في العناية بانه اسم المال الذي يجب في عقد النكاح على الزوج في مقابلته البضع (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۲. ط. س. ج۳ ص۱۰۰). ظفیر

فوجدها ثیبا لزمه الکل ورجحه فی البزازیة (۱). فقط

نکاح چی کله په زر روپی وسوه نوهم دا ورکول واجب دی که څه هم دانه وی لیکل سوی:

سوال: (۱۳۲۷) یوسړی دنکاح څخه مخکی دانجلۍ دپلار په مشوره دحق مهر دپاره یو ستامپ ولیکی چی په دی کی دالیکلی وو چی زه دخپلی منکوحی زینب بی بی دپاره زر روپی په باره دحق مهر اوددی څخه علاوه دو دیرش روپی اوکالی مطابق دلیکلو درجسټر ادا کولو وعده کوم چی په وخت دطلب دازما څخه دوصولولو حق لری، خو دتحریر څخه وروسته خفگان راغی اواستامپ ناخوښه سو دانجلۍ پلار وویل چی زه به صباته په وخت دنکاح دزرو روپو رقم په رجسټر دنکاح کی ددی حواله بالکل نه ورکوم لکه چی همداسی وسوه، په ۲۱ ستمبر سنه ۱۹۱۸ کی تحریر وسو او۲۲ ستمبر سنه ۱۹۱۸ باندی نکاح وویل سوه اویو زر رقم په رجسټر کي درج نه سوې صرف دو دیرش روپی اوکالی درج سوه، نوپه دی صورت کی ښځه زر روپی هم وصولولی سی اوکه نه؟ اقرار نامه رجسټری سوی نه ده؟

جواب: په دی صورت کی ددو دیرشو روپو او زیوراتو څخه علاوه مذکوره زر روپی هم په مهرکی داخلی دی اوعند الطلب پرخاوند باندی یې اداء کول لازم دی ځکه چی زبانی او تحریری په دی صورت کی کافی دی درجسټری کیدو ضرورت شرعًا نسته. کمافی الدر المختار: ویجب الاکثر منها ان سمی الاکثر الخ (۲). فقط

دنکاح څخه وروسته معلومه سوه چی ښځه قابل دجماع نه ده نومهر به واجب وی اوکه نه؟

سوال: (۱۳۲۸) یوه سړی خپله نکاح په عوض دتقریبًا مهر وکړه اودنان اونفقه په عوض کی یې دپنځو سوو روپو مزکه دښځی په نوم کړه بیا دنکاح څخه وروسته معلومه سوه چی دابښځه قابل دوطی او داولاد نه ده نوددی وجه څخه سړی دېته طلاق ورکړی نومهر واجب دی اوکه نه اودنان اونفقې په عوض کی چی څه ورکول سوی دی دابه ددی مالکه وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی په طلاق ورکولو سره نیم مهر پرخاوند لازمیږی (۳) او دنان او نفقې دپاره چی څه خاوندورکړیدی دی ښځی ته نودادی‌مالکه سوه اوددی واپسی اوس

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۷۲. عبارتها تزوجها علی انها بکرا فاذا هی لیست کذالك یجب المهر (ردالمحتار ایضا ط.س. ج۳ ص۱۲۲). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۰۲. ظفیر

(۳) درتقاء وغیره ښځی سره نکاح صحیح ده تردی چی ده ته دنکاح دفسخ خیار هم نسته. ولا یتخیر احد الزوجین بعیب الاخر ولو فاحشا کجنون وجذام وبرص ورتق وقرن (درمختار) رتق بالتحریك انسداد مدخل الذکر وقرن =

نه سی کیدی. فقط

دطلاق څخه وروسته مهر موجل هم معجل کیږي: **سوال**: (۱۳۶۹) زید خپلی ښځی هندی ته دری نیم کاله داسی دډوډی جامی اودبچی دپالنی څه حق نه دی ورکړی اونه یي حق دزوجیت ادا کړیدی، زید یووار یوه زنانه راوسته اوپر هنده یي سخت تشدد وکی اواخر دځو کسانو په مخکی یي درې طلاقه وویل او ولاړی، نوخپل مهر موجل وصولولی سی اوکه نه؟ زید عذر کوی چی مهر موجل وو معجل نه وو، نوپه دی صورت کی شرعا څه حکم دی؟

جواب: که دوه عادل شاهدان دطلاقو موجود وی یازید ددی اقرار کوی نوهنده طلاقه سوه اومهر که موجل وو نومعجل سو دطلاق څخه وروسته هنده دخپل مهر مطالبه دزید څخه کولی سی اودزید عذر خطا اوباطل دی، اونفقه دتیری سوی زمانی هندی ته نه سی ملاویدی. فقط

ښځه چی قابل دوطی نه وی نوددی مهر: **سوال**: (۱۳۷۰) دیوسړی نکاح دیوی انجلۍ سره وسوه خوانجلۍ قابل دوطی نه ده نونکاح وسوه اوکه نه؟ وروسته بیا دا فیصله وسوه چی دانجلۍ کم جهیز وو دادی انجلۍ والا ته ورکول سی اوچی کم زیورات وغیره دهلك وه نوهغه دی هلك والا ته ورکول سی، انجلۍ خپل جهیز یووړی اوزموږ کالی یي راکړه، اوس نوطلاق ورکول سی اوکه نه؟ اوپر موږ څومره مهر لازم دی؟

جواب: نکاح سوی وه په طریقی دخلع چی کمه فیصله وسوه هغه صحیح ده خوکه دخلع وغیره لفظ نه وی ویل سوی نونه طلاق واقع سو اونه مهر معاف سو اوچی کله ښځه قابل دوطی نه ده نوددی سره که خلوت هم وسی بیا دطلاق څخه وروسته نیم مهر لازمیږی ځکه چی داخلوت صحیحه نه دی ([1]). فقط

دخاوند دمرتد کیدو څخه وروسته به هم دده څخه مهر وصولیږي: **سوال**: (۱۳۷۱) دهندی خاوند دنهو کالو راهیسی عیسایي سویدی خودی هندی ته نان او نفقه رالیږی، اوس دهندی قریبان وایي چی موږ دمهر مقدمه کوو، نوآیا په صورت دارتداد دخاوند که

= کفلس لحم ینبت فی مدخل الذکر کالغدة وقد یکون عظماء (ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص۸۲۲) نو که داسی ښځه وی نودخلوت څخه وروسته هم ددی مهر نیم دی ځکه چی په دی صورت کی خلوت ونه سو وګوری ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۵، ط.س. ج۳ ص۵۰۱، صرف دخنثی مشکل سره نکاح نه کیږی. که دا صورت دی نودا جلا خبره ده. ظفیر

([1]) والخلوة بلا مانع حسی الخ ورتق والتلاحم الخ وقرن بالسکون عظم وعقل بفتحتین عدة (درمختار) فی البحر عن المغرب القرن فی الفرج مانع یمنع سلوك الذکر فیه (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۵، ط.س. ج۳ ص۱۱۴). ظ

دمهر مقدمه وسی نوترکم میعاده پوری اومرتد چی کمی ډیری روپی هندی ته ورکړی وی ددی اخیستل هندی لره جائز وو اوکه نه؟ اواوس مرتد خاوند دهندی څخه داروپی بیرته اخیستی سی اوکه نه؟

جواب: په صورت دارتداد (دخاوند) ښځه دخاوند څخه مهر اخیستی سی ([1])، اومیعاد ددی شرعا هیڅ نسته یعنی په موده تیریدو سره مهر نه ساقطیږی، اوچی څه عیسایي دی ښځی ته ورکړیدی اوهبه کړیدی نوهغه ددی مالکه سوه، دموانع درجوع موجودیدو په صورت کی داعیسایي دامال بیرته نه سی اخیستی، اوداسلام دراوړو څخه وروسته دوباره نکاح کیدی سی. فقط

دحلالی څخه مخکی دنکاح په صورت کی مهر راځی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۷۲) یوسړی خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړل ددی څخه وروسته مخکی دحلالی څخه یي نکاح وکړه او کوروالی یي وکی نوپه دی صورت کی نکاح شرعا صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح ونه سوه اومهر مثل په نکاح فاسده کی لازمیږی وروسته ددخول اودکوروالی څخه. قال فی الدرالمختار ویجب مهر المثل فی نکاح فاسد الخ بالوطی الخ ([2]). فقط

دمطلقی مهر دخاوند پرذمه لازم دی: **سوال**: (۱۳۷۳) یوی نافرمانی ښځی ته خاوند طلاق ورکی اوخاوند صرف داتو روپو ملازم دی نوپه دی صورت کی دخاوند پرذمه دښځی قرض دمهر واجب دی اوکه نه؟ اودخاوند دمفلسی به هم په شریعت کی څه لحاظ وی اوکه نه؟

جواب: دمطلقی ښځی چی کم دین دمهر دی نوهغه پرخاوند لازم دی چی کله هم وسی اداء دی کړی په دی قرض کی حاکم قید کولی سی وروسته دثابتیدو دافلاس څخه دی ازاد کړی بیاچی څومره دده وس وی دومره ادا کول لازم دی په هرحال فرض دمهر پر ذمه دخاوند واجب الاداء دی ([3]). فقط

نابالغه خاوند چی وفات سی نوهم مهر اوعده ضروری دی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۷۴) خاوند که صغیر وی اونابالغ وی اودده ښځه لا رخصت سوی نه وی په دی حالت کی صغیر

([1]) افاد ان المهر وجب بنفس العقد الخ وانما یتاکد لزوم تمامه بالوطؤ ونحوه الخ لان البدل بعد تاکد لایحتمل السقوط الا بالابرار (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۰۲). ظفیر

([2]) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارباب المهر ج۲ ص۴۸۱،ط.س. ج۳ ص۱۳۱. مطلب فی النکاح الفاسد. ظ

([3]) ومن سمی مهرا عشرة فما زاد فعلیه المسمٰی ان دخل بها اومات عنها (الی قوله) ان طلقها قبل الدخول والخلوة فلها نصف المسمٰی (هدایه ج۲ ص۳۰۴). ظفیر

خاوند وفات سو نودښځی مهر به واجب وی اوکه نه اوپر ښځی به عده لازمه وی اوکه نه؟

جواب: خاوند چی مړسی که څه هم صغیر وی (۱) اودده ښځه رخصت سوی نه وی مهر اوعده لازمه ده: المهر يتأكد بأحد معان ثلاثة الدخول والخلوة الصحيحة وموت أحد الزوجين سواء كان مسمى أو مهر المثل حتى لا يسقط منه شيء بعد ذلك إلا بالإبراء من صاحب الحق (فتاوٰی عالمگیریه جلد۲ ص۳۱۴ نولکشوری) اعدة المرأة فی الوفاة اربعة اشهر وعشرة ايام سواء كانت مدخولا بها اولا مسلمة اوكتابية صغيرة اوكبيرة او اسية الخ (ایضا ص ۵۴۵). فقط

دطلاق څخه وروسته به ښځی ته مهر اوکالی څومره ورکول کیږی؟ سوال: (۱۳۷۵) دیو سړی یوه ښځه ده اودا همیشه خاوند ناراضه ساتی، چی دهغه دوجه خاوند ښځه دخپل کوره وایسته ښځی په عدالت کی دخرچی دعوٰی وکړه نوپه ښځی او خاوند کی صلح وسوه په خرچه ورکولو باندی خاوندښځی ته طلاق ورکول غواړی، نوزموږ دلته داطریقه ده چی دنکاح په وخت مهر اوکالی زیات تړل کیږی، اومهر په دی زمانه کی ځوك ښځو ته نه ورکوی ددی وجه څخه خلګ وایي مهر څوك ورکوی چی څه ووایي منظور یي کړه چی کمو خلګو ته کله زر روپی ورکول کیږی هم نه دهغوی زر روپی مهر تړل کیږی دلته داهم دستور دی چی ښځه مړه سی نوددی څخه وروسته چی دخاوند دکور څومره کالی وی هغه بیرته ورکوی اوبعضی خلګ خپل ورکړی زیور بیرته اخلی اودخاوند والا خاوند ته ورکوی نوپه داسی حالت کی که ښځی ته طلاق ورکول غواړی نودا دڅومره زیوراتو اودمهر حق لری؟

جواب: که طلاق وروسته ددخول یادخلوة صحیحه څخه سوی وی نوپوره مهر دخاوند پر ذمه لازم دی اوکه مخکی دوطی اودخلوة صحیحه څخه وی نونیم مهر دخاوند پرذمه لازم دی اوزیور چی کم دسړی دی اوښځی ته یي عارية ورکړیدی نوهغه به بیرته واخلی اوچی کم زیور دښځی دمور اوپلار دکوره دی اویا خاوند ددی په ملکیت کړیدی نودابه ښځی ته ورکول کیږی. کمافی الدرالمختار: ویتاکد عند وطی اوخلوة صحت الخ ویجب نصفه لطلاق قبل وطی اوخلوة. فقط والله اعلم.

دزیات مهر په صورت کی نکاح صحیح ده او که نه؟ سوال: (۱۳۷۶) زموږ په زمانه کی ډیر

(۱) ولو بزوج لايطاق معه الجماع (درمختار) أي ولو كان الصغر مصاحب الزوج يعني لا فرق بين أن يكون الزوج أو الزوجة أو كل منهما صغيرا الخ وتجب العدة بخلوته وإن كانت فاسدة لأن تصريحهم بوجوبها بالخلوة الفاسدة شامل لخلوة الصبي (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۲، ط.س. ج۳ ص۱۱۴ مطلب فی احکام الخلوة). ظفیر

زیات ځلوینبت زره مهر مقرر کیږی حال دادی چی په کورکی ناره هم باندی تیریږی خو کم عیب ګڼل کیږی نوداسی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: مهر زیاتول ښه ګڼل سوی نه دی، اوشرعًا ښه امر نه دی ([1]). باقی چی کم مهر مقرر سو که څه هم دا دخاوند دحیثیت څخه زیات نه وی دامهر لازمیږی اونکاح کیږی ([2]). فقط

دمهر اخیستو څخه وروسته ښځی لره دخاوند کورته تلل راتلل په کاردی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۷۷) خاوند ډګری دزوجیت وکړه اوښځی ته ډګری دمهر معجل وسوه خوښځه چی مهر واخلی دخاوند کره دراتلو څخه انکار کوی نوپه دی صورت کی مهر ورکول په کار دی اوکه نه؟

جواب: مهر معجل ادا کول ضروری دی خو وروسته داخیستو دمهر معجل څخه ښځی ته دخاوند کورته دراتلو څخه انکار کول نه دی په کار بلکی جائزنه دی ([3]). فقط

مهر دلازمیدو څخه وروسته کله هم ساقطیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۷۸) یوسړی خپلی ښځی ته په عدالت کی زانیه وویل چی دی ښځی په دیوان عدالت کی دطلاق دلعان دعوٰی وکړه اوعدالت باقاعده ښځی ته حکم وکی چی تاته طلاق واقع سو نوپه دی صورت کی مذکوره ښځه دمهر اخیستو حقداره ده اوکه نه؟ سید امیر علی چی کمه شرع محمدی لیکلی ده نوپه دی کتاب کی دی په یوځای کی لیکی! چی مهر په خلوت صحیحه سره چی کله واجب سی نو ددی څخه وروسته دا دښځی په فعل نه دی معدوم کیدل په کار نو دا صحیح دی اوکه نه؟

جواب: صحیح هم داده چی کله په خلوت صحیحه پوره مهر لازم سی نودا بیا دښځی په هیڅ فعل نه ساقطیږی لکه په درمختار وغیره په کتابونو دفقه کی همداسی دی ([4]).

([1]) عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال ألا لا تغالوا صدقة النساء فإنها لو كانت مكرمة في الدنيا وتقوى عند الله لكان أولاكم بها نبي الله صلى الله عليه وسلم ما علمت رسول الله صلى الله عليه وسلم نكح شيئا من نسائه ولا أنكح شيئا من بناته على أكثر من اثنتي عشرة أوقية. رواه احمد والترمذی وابوداود والنسائي وابن ماجه والدارمی (مشکوٰة، باب الصداق ص ۲۷۷). ظفیر

([2]) وتجب العشرة ان سماها اودونها ويجب الاكثر منها ان سمى الاكثر ويتاكد عند وطى اوخلوة صحت اوموت احدهما (درمختار) قوله يجب الاكثر اى بالغا مابلغ (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۰۳).ظ

([3]) ولها منعه من الوطى لاخذ ما بين تعجيله من المهر كله اوبعضه (درمختار) واللام بمعنٰى الى (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۲، ۴۹۳. ط.س. ج۳ ص۱۴۳. مطلب فى منع الزوجة نفسها بقبض المهر). ظفیر

([4]) واذا تاكد المهر بما ذكر لا يسقط بعد ذالك وان كانت الفرقة من قبلها لان البدل بعد تاكده لايحتمل السقوط (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴، ط.س. ج۳ ص۱۰۲). ظفیر

دخاوند دپلار څخه دمهر مطالبه صحيح ده اوکه نه؟ **سوال**: (۱۳۷۹) كه خاوند په ژوند دخپل پلار کی مفلس سی نوښځی ته حق دمطالبی دمهر دپلار دخاوند نسته اوکه نه؟

جواب: چی خاوند په ژوند دپلار کی مفلس سی نوښځی ته مطالبه دمهر دپلار دخاوند سته اوکه نه؟

جواب: چی خاوند په ژوند دپلار کی مفلس سی نوښځی ته مطالبه دمهر دپلار دخاوند څخه بی دضمانت دده څخه نسته. کذا فی الشامی [1]. فقط

دخاوند دمرګ څخه وروسته دمهر اداء کول دده دپلار پرذمه نه دی دخاوند دجائیداد څخه به اخیستل کیږی: **سوال**: (۱۳۸۰) دیوسړی زوی چی کله ځوان سو نودده پلار دده واده وکی او دده دښځی مهر زر روپی مقرر سو کالی دسپینو سرو زرو او دوریښمو څادرونه ددستور مطابق ښځی ته ورکول سوه دواده څخه یوکال وروسته هلك مړسو دده کونډه کله دخسر کره اوکله دپلار کره اوسیدله اوس هغه ناجوړه ده دپلار کره راغلی ده څه لږ ډیر کالی چی هروخت اغوستل کیږی ددی سره دی باقی نور کالی اوجامی دخسر کره دی اوپلار ددی انجلۍ غریب دی، ددی دناجوړی خرچه نه سی برداشت کولی ددی خسر دخپل زوی مهر دی کونډی ته ورکولی سی اوکه نه؟ ځکه چی دی دخپل پلار څخه جلانه وو او ددی خسر مهر نه سی اداء کولی نوچی کم کالی دیته اچول سوی وه داپه خپل مهر کی اخیستی سی اوکه نه اوچی کم کالی دانجلۍ سره دی په دی باره کی څه حکم دی؟

جواب: مهر چی کم پرذمه دمړ خاونددی، ددی ذمه دار دده پلارنه دی [2] خوکه دی تبرعًا دخپل زوی دطرف څخه دده مهر ادا کوی یاکالی وغیره چی کم په وخت دنکاح کی ورته اچول سوی وو په مهرکی یې ورته شمار کړی اودښځی ملکیت یې کړی نوصحیح ده، هسی دی ذمه دارنه دی دخاوند دڅه شی څخه ښځه خپل مهر اخیستی سی نوکه دده په ملك کی هیڅ هم نه وو نوښځه هیڅ هم نه سی اخیستی اوکالی وغیره چی کم ورته اغوستل سوی وه که هغه عاریةً ګڼل سوی وی یعنی دښځی ملك کول مقصود نه وي، نو ددی مالك دخاوند پلاردی اوکه دخپل زوی ملك کړی یې وو او دده ښځی ته یې ورکړی وو لکه چی عرف دی نودادخاوندملك دی ددیڅخه ښځه مهراخیستی‌سی اوکه دورکولو

---

[1] ولا يطالب الأب بمهر ابنه الصغير الفقير أما الغني فيطالب أبوه بالدفع من مال ابنه لا من مال نفسه إذا زوجه امرأة إلا إذا ضمنه كما في النفقة فإنه لا يؤخذ بها إلا إذا ضمن (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر مطلب فی ضمان الولی المهر ج۲ ص۴۹۱. ط.س. ج۳ ص۱۴۱). ظفیر

[2] لان المهر مال يلزم ذمة الزوج ولا يلزم الاب بالعقد اذ لو لزمه لما افاد الضمان (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۹۱، ط.س. ج۳ ص۱۴۱). ظفیر

په وخت کی یي مړور مالکه کړی وه نودا مالکه سوه. فقط

دمهر معجل دوصولولو دپاره ښځه دخاوند کورته دتلو څخه انکار کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۳۸۱) دهندی نکاح په عرض ددوو نیمو سوو کالدارو مهر معجل دزید سره وسوه تحریری معاهده دنکاح څخه مخکی دشاهدانو په مخکی وسوه چی زه به هنده دهندی په کورکی ساتم اوپه خپله به ورسره اوسیږم که خپل کورته هنده بوځم نوهندې ته به ددوهم اختیار وی اوزه به ددی څخه دست برداره یم، اوس زید هنده بیای اوهنده مطالبه دمهر معجل کوی نوشرعا زید ته بی داداء کولو دمهر معجل څخه دهندی دبوتلو اختیار سته اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی هنده دمهرمعجل مطالبه دزیدڅخه‌کولی سی اودمهر دوصولولو دپاره دخاوند کورته دتلو څخه انکار کولی سی په درمختار کی دی: ولها منعها من الوطی ودواعیه والسفر بها الخ لاخذ ما بین تعجیله من المهر کله اوبعضه الخ وفی الشامی قوله والسفر: الاولی التعبیر بالاخراج کما عبر فی الکنز لیعم الاخراج (۱). فقط

دانجلۍ درضا څخه بغیر دولی دمهر خرڅ کول څنګه دی؟ سوال: (۱۳۸۲) ولی دانجلۍ په مهر کی بی درضامندی دانجلۍ څخه تصرف کولی سی اوکه نه؟

جواب: ولی ته بی درضاء اختیار دتصرف نسته که پلار یانیکه ولی دی اوانجلۍ نابالغه ده نومهر دی په حفاظت کی وساتی اوکه بالغه ده نو دیته دی وسپاری (لقوله تعالٰی ان الله یامرکم ان تؤدوا الامانات الی اهلها). فقط

دانجلۍ وارثان ترکمه پوری ددی دخاوند څخه مهر اخیستی سی؟ سوال: (۱۳۸۳) یوه منکوحه دطلاق ورکولو څخه وروسته په یوه کال کی دامړه سی نوددی وارث ددی مهر ترکمي مودی پوری اخیستی سی اودا ښځه بی اولاده مړه ده؟

جواب: ددی مهر ددی وارثان اخیستی سی اودا ښځه بی اولاده مړه ده نونیم مهر به دخاوند وی اوباقی نیم نوروارثان اخیستی سی اوددی دپاره څه میعادنه دی مقرر. فقط

مهر پرذمه دخاوند دی او دده دپلار سره ګستاخی کول ګناه ده: سوال: (۱۳۸۴) زید دخپل زوی عمر چی عاقل بالغ دی نکاح یي دده په رضا اواجازه دبکر دلور سره وکړه مخکی دعقد دنکاح څخه زید په حیثیت دولی کیدو دمعمول مطابق دخپل زوی په اجازه بکر ته دحق مهر اونور شرطونه لیکلی ورکړل بکر خپل زوم عمر دخپل پلار زید په مخالفت اوپه عداوت تیارکی اونافرمانه یي کی بکر دخپلی لور دحق مهر اودنورو شرطونو دبقاء

(۱) وګوری ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۲. ط.س. ج۳ ص۱۴۳. ظفیر

اوداداء کولو دپاره دزید څخه چی دعمر پلار دی شرعًا طلب کولی سی اوکه به دخپل زوم څخه، اوآیا عمر دخپل پلار دزید څخه عاق دی، ځکه چی عمر خپل پلار زید ته ډیره صدمه ورکړیده اوګستاخی یې ورسره کړیده؟

جواب: مسئله داده چی مهر پرذمه دخاوند لازمیږی خوکه پلار ذمه دار اوضامن وی نو دپلار څخه دمهر مطالبه کیدی سی. کمافی الدرالمختار ولا یطالب الاب بمهر ابنه الصغیر الخ الا اذا ضمنه علی المعتمد ([1]) الخ، نوپه صورت مسئوله کی که زید ذمه داری دخپل زوی دطرفه کړی وی نودزید څخه مطالبه دمهر کیدی سی اوکه ذمه داری نه وی نونه نسی کیدی عمر په سبب دافعال مذکوره دخپل پلار څخه عاق اونافرمانه دی ده لره دخپل پلار څخه معافی غوښتل په کاردی کني نو دی به عاصی اوفاسق وی. فقط

دهلک پلار دمهر ذمه واخیسته دخاوند دمرګ څخه وروسته دده څخه مطالبه جائزده اوکه نه؟

سوال: (۱۳۸۵) یوسړی دخپلی لور نکاح دیو سړی سره وکړه په وخت دنکاح مهر مقرر سو دهلك پلار دا وویل چی زه به مهر ادا کوم ځکه چی هلك نابالغ وو اوددی سړی دری لونې اویو زوی وو. هلك خودپلار څخه مخکی مړسو اوس درې لونې ژوندی دی او دهلك ښځه دمهر دعوٰی کوی، دیته په میراث کی څه حصه ورکول کیږی اوکه نه؟ او دمهر څه حکم دی؟

جواب: په درمختار کی دی: ولا یطالب الاب بمهر ابنه الصغیر الفقیر الخ الا اذا ضمنه الاب علی المعتمد ([2]) الخ. ددی څخه معلومه سوه چی که پلار دمهر ضامن سو نو دده څخه دمهر مطالبه کیدی سی باقی دمیراث حصه دمړ زوی ښځی ته څه نسی رسیدی ځکه چی هلك دپلار په ژوند کي مړدی اودی دپلار دترکې څخه محروم دی نودده ښځه هم دده دترکې څخه محرومه سوه. فقط

دحضرت ام حبیبه (رض) مهر مقرر سو اوس ددی قیمت به څنګه لګیږی اوڅومره به وی ؟

سوال: (۱۳۸۲) دزید اودعمر په مینځ کی په مقدار دمهر دام احبیبه (رض) بحث دی زید وائی چی مهر څلورسوه دیناره دی چی داڅلور زره درهمه کیږی اوپه دغه زمانه کی یو دنیار دلسو درهمو برابر ؤ، په دی حساب سره اوس به هم څلور زره درهمه روپی جوړیږی ، چی کم اوبیش یوولس سوه روپی به وی عمروائی چی دڅلوروسوو دینارو څخه به توله ماشه جوړه کړو اوددی قیمت به دنن نرخ دسرو زرو سره ولګوو چی دهغه څخه څلور نیم زره روپی جوړیږی ، نوپه دی کی صحیح څه دی ؟

([1]) وګوری الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب باب المهر ج۲ ص۴۹۱، ط.س. ج۳ ص۱۴۱. ظفیر
([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۱، ط.س. ج۳ ص۱۴۱. ظفیر

جواب: اوس كه يوسړى دحضرت ام حبيبه (رض) دمهر په شان څلور سوه ديناره مقرر كړى (۱) نوظاهره ده چې ددى به تولى جوړى كړى اوددى قيمت به ولګوى نوچې كم قيمت په حساب دتولى په وخت داداء دمهر وى نوهغه به وركول كيږى يا دومره سره زر چې دڅلورو سوو دينارو وى وركول سى نوكه په وخت داداء دمهر توله دسرو زرو ديرش روپى وى نوڅلور نيم زره روپى سوى كنې نوچې كم نرخ وى دهغه دحساب مطابق به وى.

دتبى بى ناجوړى دمرګ څخه دوى هفتى مخكى مهر معاف كى نوڅه حكم دى؟ سوال: (۱۳۸۷) يوه ښځه چې دڅوكالو څخه په تبى بى اخته وه نودى دخپل مرګ څخه دوې هفتى مخكى خپل مهر دشاهدانو په مخكى خپل خاوند ته معاف كى نودامهر معاف سو او كه نه؟

جواب: په مرض دتبى بى كى چې كله زياتى وسى اوكمزورتيا زياته سى اوبيا په دى كى مړه سى نودا مرض الموت دى چې هبه وغيره تبرعات په حكم دوصيت وارث لره بغير درضاء دنورو وارثانو صحيح نه دى. قال فى الدرالمختار وفى القنية المفلوج والمسلول والمقعد مادام يزداد كالمريض (۲) الخ وفى الشامى قلت وحاصله أنه إن صار قديما بأن تطاول سنة ولم يحصل فيه ازدياد فهو صحيح أما لو مات حالة الازدياد الواقع قبل التطاول وبعده فهو مريض (۳) الخ جلد۲ شامى وفيه ايضاً قبيله ان علم ان به مرضاً مهلكاً غالباً وهو يزداد الى الموت فهو المعتبر (۴) الخ. اودا ښكاره ده چې دتبى بى مريض دمرګ څخه دوى هفتى مخكى ده ته مرض زيات سويدى، غرض داچې دمريضه مذكورهٔ داتصرف به دمرض الموت ګڼل كيږى اوپه مرض الموت كى مهرمعاف كول خاوند

(۱) عن أم حبيبة أنها كانت تحت عبد الله بن جحش فمات بأرض الحبشة فزوجها النجاشي النبي صلى الله عليه وسلم وأمهرها عنه أربعة آلاف وفي رواية أربعة آلاف درهم وبعث بها إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم مع شرحبيل بن حسنة رواه ابوداود والنسائي (مشكوٰة باب الصداق ص۲۷۷) اهل لغت وايي چې يودينار دڅلورنيمو ماشو وى په دى حساب سره دڅلور سوو دينار وزن يونيم سل تولى كيږى اواوس سره زر په دوه سوه روپى توله ده چې په دى حساب ددى قيمت (۳۳۷۵۰) روپى كيږى، مفتى علام هم ديو دينار وزن څلور نيمى ماشى لګولى دى چې په جواب كى درج دى، اوس دسپينو زرو اودسرو زرو وزن (۱۱۲۲) توله او (۸) ماشى دى چې داوخت سپين زر په اوه روپى توله دى چې ددى قيمت (۸۱۲۲) روپى او (۱۰) پيسى كيږى، ددې وجه څخه نومسئله دا سوه چې دديناروزن به جوړوى او بيا به يې قيمت لګوي لكه چې مفتي علامؒ كړيدي، دسروزرو قيمت په هردور كي مختلف وي، دهغه دقيمت په حساب به پيسې جوړيږي، دمفتي صاحبؒ په زمانه كي څلورنيم زره كيدې او په دې زمانه كي (۳۳۷۵۰) كيږي. ظفير

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب طلاق المريض ج۲ ص۷۱۲. ط.س. ج۳ ص۳۸۵. ظفير

(۳) ردالمحتار باب طلاق المريض ج۲ ص۷۱۷ ، ط.س. ج۳ ص۳۸۵. ظفير

(۴) ايضا ج۲ ص۷۱۲، ط.س. ج۳ ص۳۸۷. ظفير

ته صحيح نه دی. فقط

قال فی الدرالمختار اعتاقه ومحاباته وهبته الخ كل ذالك حكمه كحكم (١) وصية الخ وفيه من الوصايا ولا لوارثه الخ الا باجازة ورثته لقوله ﷺ لا وصية لوارث الا ان يجزها الوارثة الخ. فقط

مهر ضروري دی څه نمائشي شی نه دی: سوال: (۱۳۸۸) مهر څه نمائشي شی دی اوکه نه؟ زيد په وخت دنكاح يومعقول رقم دمهر په سټامپ كي وليكی وروسته چی بيا طلب ځينی وسو نوجواب يي وركی چی ماخو مهر نمائشي ليكلی وو، نودنه اداء كولو دپاره شرعی څه حكم دی؟

جواب: مهر څه نمائشي شی نه دی بلكی خاوند چی كم مقدار دمهر معجل مقرر كی ددی اداء كول فی الحال ضروري اولازم دی اوښځه هروخت دامقدار اخيستی (٢) سی او دطاقت سره يي نه وركول ظلم صريح دی. فقط

چی كله يوه سړی دوی ښځی وكړی نوددی دواړو اولاد جلا جلا مهر وصولولی سی اوكه نه؟

سوال: (۱۳۸۹) كنيز رابعه نومي ښځه دمولوی محمد رفيق مړه سوه خو بالغ اولاد يي پريښی دی يوكال وروسته محمد رفيق دوهم واده دفقيلن نومي ښځی سره وكی، اوددی څخه هم څه اولاد وسو چی محمد رفيق وفات سو نودغه وخت ددوهمی ښځی يو بالغ اولاد يعني زوی ژوندی وو، اوس ددواړو ښځو اولاد دمرحوم پلار منقوله اوغير منقوله املاكو څخه دمهر قرض اخيستل غواړی، داخو اسانه وه چی دواړه نيم نيم په حصه درسد تقسيم كړی خوهر وارث پوره تعداد دمهر اخيستل غواړی چی دهغه دليل هم هر فريق بيانوی چی وارثان دكنيز رابعه وايي، چی كله زموږ مور مړه سوه نوموږ دقرض دمهر دمطالبی حقدار سو كه څه هم موږ دپلار دادب دوجه خاموش پاته سو اودغه وخت زموږ څخه علاوه بل څوك وارث نه وو نو ددی وجه څخه موږ ته تمام مهر رسيدل په كار دی وارثان دبی بی فقيلن وايي چی كله دمخكی بی بی اولاد ترشلو كالو پوری دقرض دمهر مطالبه ونه كړه نواوس دوی ته حق دمطالبی ددين دمهر څخه سته ددی وجه څخه موږ ته پوره مهر رسيدل پكاردی، نوشرعًا په دی باره كی څه حكم دی؟

جواب: شرعی مسئله داده چی مخكی او وروستی قرض برابردی اودمقدم دائن اودموجز

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ط.س. ج٦ ص٧٩ باب العتق المريض. ظفير

(٢) افاد ان المهر وجب بنفس العقد (ردالمحتار باب المهر ج٢ ص٤٥٤، ط.س. ج٣ ص١٠٣) ولها منعه من الوطی ودواعيه والسفر بها الخ لاخذ ما بين تعجيله من المهر كله اوبعضه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج٢ ص٤٩٠، ط.س. ج٣ ص١٤٣ مطلب فی منع الزوجة نفسها لقبض المهر). ظفير

دائن حق برابردی په دی کی چاته ترجیح نسته اوداهم حکم شرعی دی چی ترڅو دائن خپل دین دمدیون څخه وصول اوپه قبضه کی رانه ولی نوتر دغه وخته پوری دی نه مالك کیږی اودا هم شرعی مسئله ده چی په واده سره ددائن حق نه ساقطیږی. کمافی الشامی ان الحق لا یسقط بتقادم الزمان (١). نوددی تمهید څخه وروسته شرعی فیصله داده چی په مذکوره صورت کی ددواړو ښځو مهر برابردی چی اول دی دمړی دترکی څخه ددواړو ښځو مهر لیری سی اوباقی پاته دی په وارثانو موافق دشرعی حصو تقسیم سی اوکه ترکه دواړو مهرونو لره کافی نه وی نوپه دواړو دی په قدر دحصی تقسیم سی مثلاً که ددواړو ښځو مقدار دمهر جلا جلا وی نو دزیاتی والاته دي زیات او دکمی والا ته کم موافق دحساب ورکول سی. او دتساوی دمهر په صورت کی دواړو ته دی برابر برابر ورکړل سی، خودکنیز رابعه په مهر کی څلورمه حصه ددی خاوند ته به ورکول کیږی چی دخاوند دوفات څخه وروسته به دده په وارثانو کی دحصو مطابق تقسیم سی. فقط

<u>دالله دپاره په ویلو سره نه په مهر کی څه نقصان راځی اونه په نکاح کی</u>: سوال: (١٣٩٠) دبعضو انجونو ولی اجازه ورکړی چی نکاح دالله دپاره وکړه نوقاضی خطبه او ایجاب او قبول داسی کوی چی زینب دعمر دین لور په عوض دپنځو زرو روپو مهر کی تاته دالله دپاره وبخښله، دی یي قبول کی، یعنی داښکاره کوی چی کله مهر مقرر سو نوبیا دالله دپاره څنګه سو چی مهر مقرر نه سی نوصحیح ده، نکاح جائزده اوکه نه که انجلۍ مړه سی نوددی ولی دمهر دعوٰی کولی سی نوبیا دی مهر ولی اخلی چی دالله ﷻ دپاره یي بخښلی وه؟

جواب: اول خوددی دالله ﷻ دپاره دویلو ضرورت نسته اوکه وویل سی نوپه دی سره مهر نه ساقطیږی اوپه نکاح کی هم څه نقصان نه راځی ګویا ددی لفظ مطلب دادی چي موافق دحکم دشریعت دالله ﷻ درضا دپاره نکاح وسي یعني مقصود دباري تعالی ﷻ رضا ده. فقط

<u>ددی شاهدانو په بیان سره یوولس زره ثابت دی اوکه نه؟</u> سوال: (١٣٩١) دوالدی محترمه مرحومی مهر یوولس زره دیولسو اشرفو وو دنکاح پنځه څلوېښت کاله وسوه نوددی دواړو دوفات څخه وروسته عاجزه په جایداد دوالد دعوٰی دمهر وکړه په ثبوت دمهر کی چی په وخت دنکاح کم خلګ شاهد وه، نوپه دوی کی قاضی عبدالرحمٰن دیوولس زره دلسو اشرفیو بیان کړیدی اوقمر الدین خان زرګونه روپی دلسو اشرفیو بیان کړی دی او

(١) وګوری الاشباه والنظائر مع الحموی کتاب القضاء والشهادات ص۲۱۴ ردالمحتار کتاب الدعوٰی مطلب هل یبقی النهی بعد موت السلطان ط.س. ج۵ ص۷۲۰. ظفیر

بخشی بیگم یوولس زره دلسو اشرفیو بیان کړیدی اودا شاهدان یې زما دوالد دویلو څخه بیانوی چی ده ویلی وه چی زما نکاح په یوولس زره سویده نودومره زما دزوی مهر هم وتړی نوپه دی صورت کی زما دمور مهر یوولس زره کیدل ثابتیږی اوکه نه؟ اوحکیم صاحب لس زره یا یوولس زره په تردید سره بیانوی.

جواب: دوخت دنکاح په شاهدانوکی دیوه شاهد قاضی عبدالرحمٰن بیان دیوولس زرو دلسو اشرفیو دی اودیوی ښځی بخشی بیگم بیان دده په شان دی، اودقمر الدین خان بیان دزرگونو روپو دلسو اشرفیو دی چی مطابق ددعوٰی نه دی یعنی صفا په دی کي دیوولسو زرو دلسو اشرفیو بیان نسته اولس زره یا یوولس زره بیانول هم په طریقه دتردید مطابق دسابق نه دی نودا بیانونه خومثبت دیوولس زررو روپولسو اشرفیو شرعا نه دی اواقرار دوالد نذیر احمد چی په دی الفاظو دی چی څومره زما مهر وو نودومره به زما دلور وی نوکه په دي موقع دیوولس زرو تصریح سوی وی اوددی اقرار اوریدونکی دوه عادلان شاهدان موجود وی نویوولس زره الخ مهر ثابتیدی (۱) سی خومخکی په خپله حکیم صاحب لس یا یوولس زره دتردید سره بیان کړیدی نو ددی وجه څخه ددې سره هم دیوولس زرو ثبوت نه سی کیدی نو دداسی نزاع په صورت کی په مهر مثل سره فیصله (۲) کیږی. فقط

په دعوٰی دمعافی دمهرکی شاهدی اوپه دی باره کی پوښتنه: **سوال**: (۱۳۹۲) دعوٰی دمعافی دمهر سویده خوپه دی کی دالف نومي ښځی شاهدی په بهوپال کی سویده او دب نومي ښځی شاهدی ډیره موده وروسته په لاهورکی سویده اودج نومي سړی شاهدی دالف سره سویده اودشاهدانو ۱، ۲، ۳ شاهدی په وجه داقرار دنه پابندی اودبی پرده گی کیدو مفید دثبوت نه دی، نوددی وجه څخه دکل متروکی څخه دي دین دمهر اداسی په دی صورت کی نصاب دشاهدی پوره دی اوکه نه؟ چی دالف اودب شاهدی جلا جلا ده نوپه دی کی خوڅه شرعی نقص نسته؟

جواب: دمعافی دمهر دعوٰی ددی وجه څخه غیر ثابته گرځول سویده چی په دی کی یو سړی اودوی ښځی شاهدی ورکوی خودواړو ښځو جلا جلا اداء دشاهدی کړیده یعنی

---

(۱) ونصابها (ای الشهادة) لغیرها من الحقوق ؁ رجلان ؁ اورجل اوامراتان (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار كتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۵، ط.س. ج۴ ص ۴۲۵). ظفیر

(۲) وان اختلفا فی المهر ففی اصله الخ یجب مهر المثل (درمختار) قال فی الفتح الاختلاف فی المهر اما فی قدره اوفی اصله وكل منهما اما فی الحیوٰة اوبعد موتهما اوموت احدهما (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۲، ط.س. ج۳ ص۱۴۸ مطلب مسائل الاختلاف فی المهر). ظفیر

ددوو ښځو دجلا جلا دشاهدی اداء کولو دوجه څخه دیوه سړی او ددوو ښځو دشاهدی نصاب نه دی ګرځول سوی اوپه سبب دعدم دنصاب دشاهدی دعوٰی یې غیر مسموع ګرځول سویده حال دادی چې په احنافو کی داسی قول نسته چی دهغه څخه داثابت سی چی دښځو په شاهدی کی تفریق دشرط قبول دی دومره صحیح ده چی قاضی لره په دوو ښځو کی تفریق نه دی کول په کار. کما فی الدرالمختار لایفرق بینهما (١) الخ. په دی مسئله کی اصل دادی چی امام شافعی کما قال السبکی اوامام بشر حاکم ته دشاهدی دپاره راغله نو ده ددوی دیوبل څخه جلا کول وغوښتل نوامام شافعی فتذکر احدهما الاخرٰی. آیت تلاوت کړی اوحاکم ساکت سو (٢) ددی څخه ثابته سوه چی دامام شافعی داستنباط دارمدار پرآیت مذکوره دی چی ددی حقیقت ددی څخه زیات نه دی چی ددی څخه اشاره دعدم ضرورت دتفریق معلومیږی نه داچی عدم تفریق ضروری دی لکه چی په خپله شوافعو په وخت دارتیاب قاضی ته اختیار دتفریق ورکړیدی بلکی مستحب ده چی شاهدان په شرط داشتباه اودارتیاب دیوبل څخه جلا سی. کمافی الحموی قال تاج السبکی بعد نقل هذه الحکایة وهذا فرع حسن استنباط جید والمعروف في مذهب ولدها (وهو الشافعي) اطلاق القول بان الحاکم اذا ارتاب بالشهود استحب له التفریق بینهم وکلامها صریح في اشتباه النساء للمنزع الذي ذکرته ولا باس به اهـ اقول وفي الملتقط من الحکایة المذکورة لیس صریحاً في ان المذهب عندنا عدم التفریق في شهادة اذا ارتاب القاضي ص٣٢٧. ددی تصریح څخه معلومه سوه چی قاضی سره درضامندی دښځو هم په صورت دارتیاب تفریق کولی سی نوکه په خاص عذر یابغیر دعذر څخه اتفاقا ددوو ښځو شاهدی جلاجلا واخیستل سوه نوپه دی کی څه مضائقه ده ددی وجه څخه صرف په جلا جلا اداء شاهدی دامرأتینو دي په وجه دنصاب دشاهدی ناقص ونه ګڼل سی بلکی په دی شاهدی سره معافی دمهر ثابتیږی اوکه په دی توهم یعنی صرف په جلا جلا اوپه مختلفو وختونو کی داداء دشاهدی کیدو په بناء ددعوٰی قضاء سوی وی نودا قضاء هم نافذه نه ده. کما فی الشامی المقلد متٰی خالف مذهبه لا ینفذ حکمه. ج۴ ص٤٢٠. فقط

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ج۴ ص٥١٢، ط.س. ج۵ ص٤٢٥. ظفیر

(٢) حکي أن أم بشر شهدت عند الحاکم فقال الحاکم فرقوا بینهما فقالت لیس لك ذلك قال الله تعالی (أن تضل إحداهما فتذکر إحداهما الأخری) فسکت الحاکم (ردالمحتار کتاب الشهادات ج۴ ص٥١٢، ط. س. ج٣ ص ٤٠٥) په تفصیلی واقعه کی دامام شافعی تذکره هم سته، ددی دپاره وګوری: حموی علی الاشباه والنظائر کتاب القضاء والشهادات ص٢٢١. ظفیر

دمعافي څخه وروسته دمهر مطالبه صحيح نه ده: سوال: (۱۳۹۳) يوسړی خپلی ښځی ته وويل چې داستا مهر موجود دی معاف يې کړه کنې نو پرتابه زکوٰة ورکول وي دي خيال وکړی چې مهر خونه رارسيږي نو ددې وجه څخه معاف يې کړی اوس يې دخاوند څخه وړی سي اوکه نه؟

جواب: چې کله ښځې مهر معاف کی چې په هره وجه وي او بغير دزبردستی اوزور څخه يې معاف کړی که څه هم چې دخاوند په ويلو يې معاف کی اواګر چه ښځې په بيره دزکاة معاف کی نوپه دې صورت کې مهر معاف سو عند الله دمهر مطالبه نه سي کولی ، للمرأة ان تهب مالها لزوجها من صداق دخل بها زوجها او لم يدخل، عالمگيري مصري ج۱ ص۲۹۲، اذا وهب احد الزوجين لصاحب لا يرجع في الهبة، قاضي خان ج۴ ص۲۸۸. (۱)

ښځې مهر وانه خيستی اوروپی يې په تجارت کې ولګيدي اوس ښځه سره دنفع مهر اخيستی سي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۹۴) که شرعاً دښځې مهر ادا سوی نه وي او دنقدو څخه ددوی دمهر اخيستو حق وي اودا نقد په تجارت کې ولګيدی په دې کې ګټه او تاوان هرڅه سوی وي نن ښځه خپل مهر سره دمنافعو غواړي نو ښځې لره دمنافع داخيستو حق سته اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې ښځه صرف خپل مهر دوارثانو څخه اخيستی سي دامهر دوارثانو پرذمه دی نوښځه صرف اصل مهر اخيستی سي اودګټې مطالبه نه سي کولی.

دلور دمرګ څخه وروسته ددې پلار ددې مهر اخيستی سي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۹۵) دلور دمرګ څخه وروسته ددې والدينو ته ددې دمهر اخيستو حق سته اوکه نه؟

جواب: لور که بې اولاده مړه سي اوخپل خاوند او والدين پريږدي نو ددې مهر اوپه ترکه کې وروسته تر ادا دحقوقو چې مقدم على الميراث دي نيم مال ددې دخاوند او نيم دوالدينو دی، کما قال الله تعالى: ولكم نصف ما ترك ازواجكم ان لم يكن لهن ولد. (۲)

دخلع دپاره چې يو غير دښځې په حکم روپی ددې خاوند ته ورکړی نودا سړی دښځې څخه دا روپۍ وصولولی سي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۹٦) عمر دزيد څخه يوسل او شپيته روپۍ دهنده په امر سره چې کمې اخيستي وي رقم واخيستی اوښځې ته يې طلاق ورکړی دې زيد روپی دبکر دپاره ورکړيدي چې عدت تېره سي نودبکر سره به نکاح وکړم بکر دهندی په عده کی مړسو نه عده پوره سوه اونه نکاح وسوه زيد خپلی يوسل او شپيته روپی دهندی يا ددی دپلار څخه طلب کوی اوهنده انکار کوی دخپلی خرچی اودمهر

(۱) الاشباه والنظائر الفن الثاني كتاب القضاء والشهادات ص۲۲۱. ظفير
(۲) سورة النساء. ظفير

اودنسب دعوٰی کوی آیا زید خپل رقم بیرته اخیستی سی اوکه نه؟ اودهندی دعوٰی هم چلیدی سی اوکه نه؟

جواب: دهندی په امر چی کمی روپی زید عمرته دطلاق په غرض ورکړی وی نوزید دا روپی دهندی څخه بیرته اخیستی سی اوپه طلاق علی المال کی دصحیح قول موافق دښځی مهر نه ساقطیږی. په درمختار کی دی: ویسقط الخلع والمباراة کل حق ثابت وقتها کل منهما علی الاخر الخ قوله کل حق شمل المهر والنفقة المفروضة والماضیة ([1]) الخ شامی وقبل الطلاق علی مال مسقط للمهر کالخلع والمعتمد لا، درالمختار وفی الشامی ان النفقة المقتضی بها تسقط بطلاق واطلقوه فشمل الطلاق بمال وغیره شامی ([2]) وفی ردالمحتار للشامی وان ارسله بان قال علی الفاتح فان قلبت لزمها تسلیمه الخ شامی ([3]). فقط

دلونو او دبیبیانو دنبی کریم ﷺ مهر څومره وو او ددی څخه مهر زیات ایښوول مکروه دی او که نه؟ سوال: (۱۳۹۷) څه فرمایي ددین عالمان اومفتیان دشرع متین په دې مسئله کی چی دنبی کریم ﷺ دبیبیانو بی بی عائشه صدیقه اوبی بی حفصه اوبی بی خدیجة الکبرٰی رضی الله عنهن وغیرها اولونی دنبی کریم ﷺ بی بی فاطمه، رقیه، ام کلثوم رضی الله عنهن دعقد دنکاح مهر څومره مقررسوی وو، اوبل داچی که څوك ددوی دمهرڅخه زیات مقررکړی نومکروه به وی اوکه نه؟ دتفصیل سره یې ولیکی؟

جواب: مکروه نه دی، خوډیر زیادت ناخوښه سویدی، دبیبیانو اودلونو دنبی کریم ﷺ مهر دولس نیمی اوقیه وو چی پنځه سوه درهمه کیږی ماسوا دام حبیبه رضی الله عنها څخه چی دهغې مهر څلور زره درهمه نجاشی مهر کړی وو. مشکوٰة ([4]). (دپنځو سوو درهمو وزن یو سل یودیرش تولی سپین زردی ددی قیمت دسپینو زرو په نرخ معلوم کړی. ظفیر).

داولیاؤ دنکاح څخه مخکی یاپه وخت دنکاح مهر اخیستل څنګه دی؟ سوال: (۱۳۹۸) بعضی

([1]) وګوری ردالمحتار باب الخلع ص۷۷۷ – ۷۷۸، ج۲. ط. س. ج۳ ص۲۵۲، ۲۵۳. ظفیر

([2]) ایضا ص ۷۸۰ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۴۵۵. ظفیر

([3]) عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال ألا لا تغالوا صدقة النساء فإنها لو كانت مكرمة في الدنيا وتقوى عند الله لكان أولاكم بها نبي الله صلى الله عليه وسلم ما علمت رسول الله صلى الله عليه وسلم نكح شيئا من نسائه ولا أنكح شيئا من بناته على أكثر من اثنتي عشرة أوقية ونش قال اندري ما النش قلت لا قالت نصف اوقية فتلك خمس مائة درهم. رواه مسلم (مشکوٰة باب الصداق ص۲۷۷) اودام حبیبه رضی الله عنها په اړه صراحت دی چی: امهرها عنه اربعة الف درهم (ایضا). ظفیر

([4]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر مطلب لابی الصغیرة مطالبة المهر ج۲ ص۵۰۸، ط. س. ج۳ ص۱۲۱. ظفیر

خلگ دهلك يادده دوارثانو څخه دنكاح څخه مخكي ياپه وخت دنكاح ورڅخه مهر اخلي اوپه خپلو ضروریاتوکی يي خرڅ کوی اودليل دجواز داحديث: انت ومالك لابيك (۱) پيش کوی اوقصه دحضرت شعيب اودموسٰی علیہما السلام چی دخپلی لور په مهر کی يي باندي بزي څرولي وی، نودا دليلونه په مالونو داولادکی دجواز دپاره صحيح دی اوکه نه؟

جواب: دانجلۍ پلار لره دمهر اخيستل صحيح دی خوپه خپل خرڅ کی يي لګول صحيح نه دی اوکه وی لګوی نودابه انجلۍ ته واپس کوی: لاب الصغيرة المطالبة بالمهر، در مختار (۲) وفی الشامی والصغير غير قيد ففی الهندية للاب والجد والقاضی قبض صداق البكر صغيرة كانت اوكبيرة الا اذا نهته وهی بالغة صح النهی الخ (۳). اودشعيب علیہ السلام په قصه کی تحقيق دادی چی که څه هم فقهاء ددی څخه استدلال کوی چی که دپلار بزی څرول مهر مقرر سی نونكاح صحيح ده اومهر مثل لازم دی. ومقتضاه وجوب مهر المثل فی خدمة وليها وعدم لزوم الخدمة وكذا فی مثل قصة شعيب (۴) علیہ السلام. خوپه شامی کی دی چی په دی صورت کی دپلار پر ذمه ددی خدمت قيمت لور ته ورکول لازم دی په درمختارکی دی: ومفاده صحة تزوجها علی ان يخدم سيدها اووليها كقصة شعيب علیہ السلام مع موسٰی (۵). اوپه شامی کی دی: ومفاده صحة الاستدلال بها علی الجواز فی رعی الغنم للاب قالا لرحمتی والظاهر ان وليها يضمن لها حينئذ قيمة الخدمة (۶) الخ. فقط

دنولسو روپو تنخوادار څومره مهر مقررکړی؟ **سوال**: (۱۳۹۹) چی ديوسړی نولس ۱۹ روپی دمياشتی تنخوا وی نوپه وخت دعقد زيات تر زيات څومره مهر تړلی سی؟

جواب: دمهر ادنٰی مقدار لس درهمِ شرعی دی، چی دهغه پاوکم دری روپی تقريبًا کيږی او دزيات شريعت څه حدنه دی مقرر کړی. كما قال الله تعالی وان اتيتم احداهن قنطارًا فلا تاخذوا منه شيئا الخ (۷). ددی څخه معلومه سوه چی په زرګونو روپو هم مهر کيدی سی خوښه دادی چی مهر ډير زيات اودحيثيت څخه زيات مقرر نه سی دنبی کريم ﷺ

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر مطلب لابی الصغيرة مطالبة المهر ج۲ ص۵۰۸، ط.س. ج۳ ص۱۲۱. ظفير

(۲) ردالمحتار باب المهر ايضا مطلب ايضا ج۲ ص ۵۰۸ ، ط.س. ج۳ ص ۱۲۱. ظفير

(۳) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۵۸ ، ط.س. ج۳ ص۱۲۱. ظفير

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۳ ص۴۵۸ ، ط.س. ج۳ ص ۱۰۷. ظفير

(۵) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۵۹ ، ط.س. ج۳ ص۱۰۷. ظفير

(۶) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۵۸ ، ط.س. ج۳ ص ۱۰۷. ظفير

(۷) سورة النساء . ظفير

دبيبيانو اودلونو مهر پنځه سوه درهمه ؤ يعنی چی تقريبا يوسل اوپنځه ويشت کيږی، نو مناسب اومستحب طريقه داده چی مهر زيات نه سی (۱). فقط

دمهر دمعاف کولو حق به دانجلۍ پلار ته وی داشرط څنګه دی؟ سوال: (۱۴۰۰) دزيد نکاح دبالغ هندی سره وسوه اودهندی مور اوپلار يوڅو شرطونه دزيد څخه وليکل يو شرط دادی چی دمهر دمعاف کولو اختيار به دهندی پلار ته وی اوهندی ته به نه وی نو داشرط صحيح دی اوکه نه؟ اوپه بناء دشرط داقرار نامی دهندی مهر ددی والدين معاف کولی سی اوکه نه؟

جواب: داشرط خطا دی والدينو دهندی ته دمهر دمعاف کولو هيڅ حق نسته دهندی مهر دزيد پرذمه واجب دی اوهمدايي مستحق ده اوهم دايي معاف کولی سی دوالدينو يادبل چا داسی شرطونه لګول اودخاوند قبلول شرعًا اوقطعا بی معنٰی دی (۲). فقط

چی کله مهر يادنه وی نومهر مثل به ورکول کيږی اوکه څه؟ سوال: (۱۴۰۱) دهندی عقد په قاعده دشريعت وسو خوپه رجسټر کی درج نه سو اونه مقدار دمهر يادډی په دی صورت کی به مهر مثل ورکول کيږی اونکاح به ثابته وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح منعقده سوه اومهر مثل به ورکول سی (۳) اومهر مثل هغه دی چی ددی دخوندو اودترورګانو وغيرهن مهر (۴) وی، وباقی الشروط يطلب من کتب الفقه . فقط

دخپل زوی ښځی ته يی شيدی ورکړلی اوس دادمهر مستحقه ده اوکه نه؟ سوال: (۱۳۰۲) يوی ښځی دخپل زوی ښځی ته چی ديو نيم کال ده شيدی ورکړلی نو په دی صورت کی

---

(۱) دا دسنه ۱۳۳۷هـ دوخت خبره ده په سنه ۱۳۹۱هـ کی ديو ويشتو روپو څخه کم نسی کيدی ځکه چی سپين زر په اوو روپو توله ده اودلسو درهمو وزن پنځه ديرش ماشی دی اودسپينو زرو په قيمت سره به دازياتيږی اوکميږی نو اوس دپنځوسو درهمو قيمت نه سوه پنځه ويشت روپی کيږی ځکه چی دپنځه سوه درهمو وزن يو سل او يو ديرش توله سپين زردی ددی چی کم قيمت دسکه رائج الوقت وی هم هغه حساب به وی. ظفير

(۲) وصح حطها لکله اوبعضه عنه (درمختار) وقيد بحطها لان حط ابيها غير صحيح لوصغيرة ولو كبيرة توقف على اجازتها ولابد من رضاها ففی هبته الخلاصة خوفها بضرب حتٰی وهبت مهر ما لم يصح لوقادرا على الضرب اھ (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۴، ط.س. ج۳ ص۱۱۳ مطلب فی حط المهر والابراء عنه). ظفير

(۳) وان اختلفا فی المهر ففی اصله الخ يجب مهر المثل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۹۱، ط.س. ج۳ ص۱۴۸) وكذا يجب مهر المثل فيما اذا لم يسم مهر اوفی (ايضا ج۲ ص۴۲۰، ط. س. ج۳ ص۱۰۸). ظفير

(۴) والحرة مهر مثل الشرعی مهر مثلها اللغوی ای مهر امرأة تماثلها من قوم ابيها لا امها وفی الخلاصة ويعتبر باخواتها وعماتها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر مطلب فی بيان مهر المثل ج۲ ص۴۸۷، ط. س. ج۳ ص۱۳۷). ظفير

چې نکاح باطله سوه مهر به وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دښځی اودخاوند په مینځ کی حرمت قائم سو اونکاح فسخ سوه اودخاوند پرذمه نیم مهر واجب سو نوکه پوره مهر یې اداء کوی نونیم مهر بیرته اخیستی سی په فتاوٰی عالمگیری کی دی: ولو ان رجلا تزوج صغیرة فجائت ام الزوج من النسب اومن الرضاع فارضعت الصغیرة حرمت علیه ویجب لها علیه نصف المهر ([1]) الخ. فقط

دانجلۍ پلار مهر غواړي اورخصتي نه کوي اودسلو روپو څخه یې زیاتي اخیستي دي نوڅه حکم دی؟

سوال: (۱۴۰۳) زما خسر زما ښځه نه رالیږی اویووار یې سل روپی وغوښتی چی سل روپی را ولیږه نوبیابه زه دادرولیږم، خوهغه روپی یې واخیستی اوښځه یې را ونه لیږله اوروپی یې هم ماته بیرته رانه کړی اودنور مهر دعوٰی کوی نوآیا نور مهر ورکول سی سره ددی څخه چی دی زما ښځه نه رالیږی اوددوی کره پرده هم قطعا نسته نوپه داسی صورت کی به دده امامت صحیح وی اوکه نه؟

جواب: که مهر موجل دی نوښځه قبل الطواف والموت دخاوند څخه وصولی نه سی کولی، په فتاوٰی عالمگیری کی دی: لا خلاف لأحد أن تأجیل المهر إلی غایة معلومة نحو شهر أوسنة صحیح وإن کان لا إلی غایة معلومة فقد اختلف المشایخ فیه قال بعضهم یصح وهو الصحیح وهذا لأن الغایة معلومة في نفسها وهو الطلاق أو الموت ([2]) الخ. اوچی کمی سل روپی تاخپل خسرته ورکړی دی نوهغه ته دده څخه وصولولی سی اوچی دکم سړی دکور ښځی بی پردی وی اوګرځی نوکه دی دانه منع کوی نودده امامت مکروه دی. فقط

دمهر په ورکولو سره یې دښځی په نوم جائیداد ولیکی نوخاوند دا واپس اخیستی سی اوکه نه؟

سوال: (۱۴۰۴) زید خپلی ښځی ته طلاق ورکی اومهر یې اداء کی او ددی ښځی په نوم یې څه جائیداد په عوض دنان اونفقه تحریر کړی وو نو دطلاق څخه وروسته اوداداء کولو دمهر څخه وروسته داښځه شرعًا دنان ونفقه حقداره ده اوکه نه؟ اودا جائیداد ددی څخه بیرته اخیستی سی اوکه نه؟

جواب: دطلاق څخه وروسته که یې مزکه اوجائیداد ورکړیدی نودا په طور دهبی دښځی ملکیت سو اوس په زبردستی اوپه قانونی طور باندی خاوند بیرته نه سی اخیستی اوکه په رضا یې بیرته واخلی نوسره دکراهته جائزدی. فقط

([1]) عالمگیری مصری الباب السابع في المهر فصل حادي عشر ج۲ ص۳۱۸ ط. ماجدیه ج۳ ص۳۴۵. ظفیر

([2]) عالمگیری مصری کتاب الرضاع ج۲ ص۳۴۵ ، ط. ماجدیه ج۳ ص۳۱۸. ظفیر

جائیداد دمرگ څخه وروسته به چاته ورکول کیږي؟ سوال: (۱۴۰۵) که ښځه دمذکوره خاوند په ژوند کی مړه سی نودا جائیداد ددی خاوند ته ورکول پکاردی اوکه ددی ښځی اولاد ته؟

جواب: دطلاق او دعدی دتیریدو څخه وروسته که دابښځه مړه سی نوخاوند ته ددی دمیراث څخه څه نه ورکول کیږی بلکی ددی اولاد اونورو شرعی وارثانو ته به میراث رسیږی. فقط

خاوند په نابالغتیا کی مړسو نوښځه دمهر اودنفقی حقداره ده اوکه نه؟ سوال: (۱۴۰۶) دنابالغو واده ددوی اولیاؤ کړی وو. خاوند دنابالغتیا په حالت کی مړسو آیا ناوی حقداره دمهر اودخرځ کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ښځه دپوره مهر حقداره ده اودخاوند دترکی څخه پوره مهر وصولولی سی اوخرځ اوخوراك دزمانی دعدی واجب نه دی په درمختار کی دی: لاتجب النفقة الخ لمعتدة موت مطلقا الخ (۱). درمختار باب النفقة. اوپه درمختار باب المهر کی دی: یتاکد عند وطی اوخلوة صحت من الزوج اوموت احدهما (۲). فقط

چی دکمی معافی شاهد نه وی نو دهغه حکم: سوال: (۱۴۰۷) دیوې ښځی مهر پنځه زره مقرر سوی ؤ چی دې په خپله خوښه په حالت دصحت خپل خاوندته دوه زره روپی معاف کړی چی دهغه هیڅ شاهد نسته، نوشرعا به دامعافی معتبره وی اوکه کالعدم به وی؟

جواب: که ښځه ددی معافی کولو څخه منکره نه وی بلکی اقرارکوی نوشرعًا به دامعافی معتبر وی دخاوند دذمه څخه دامهر ساقط سو په هدایه کی دی: وان حط عنه من مهرها صح الحط لان المهر حقها والحط یلاقیه حالة البقاء انتهٰی (۳). خوکه ښځه اقرار نه کوی نوبیا دشرعی شاهدی څخه بغیرددی معافی به اعتبار نه وی (دوه سړی یا یوسړی اودوی ښځی شاهدی به ضروری وی. ظفیر)

دکالو په شکل کی مهر اداء کول څنګه دی؟ سوال: (۱۴۰۸) باقی دری زره یي داسی ادا کړل چی په مختلفو وختونو کی یي زیات دزرو روپو دکالو څخه یویو دوه دوه جوړکړل اووریي کړل اودوه زره روپی یي نقدی ورکړی، نو وروسته بیا ښځه دعوی دمهر کولی سی اوکه نه؟ اویا دمهر دیوی حصی وصیت کولی سی اوکه نه؟

جواب: خاوند چی څومره کالی یاروپی وغیره په نوم دمهر ورکړیدی داټول په مهر کی به

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۲۲، ط.س. ج۳ ص۶۱۰. ظفیر
(۲) ایضا باب المهر ج۲ ص۴۵۲ ، ط. س. ج۳ ص۱۰۲. ظفیر
(۳) هدایه باب المهر ج۲ ص۳۰۵. ظفیر

حساب وی ښځه ددی حصی متعلق دمهر دعوٰی یاوصیت نه سی کولی دخاوند دقول به په دی باره کی اعتباروی: اعطاها مالاً وقال من المهر وقالت من النفقة فالقول للزوج الا ان تقیم هی البینة کذافی فتح القدیر (۱) ومن بعث الی امراته شیئا فقالت هو هدیة وقال هومن المهر فالقول قوله فی غیرالمهیا للاکل کالعسل والسمن (۲) ؒ فتاوٰی عالمگیریه.

ددریمی حصی دمهر دخیرات کولو وصیت جائزدی اوکه نه؟ سوال: (۱۴۰۹) ښځی دمرگ شخه شیږ دیرش گهنتی مخکی وصیت وکی چی ددی مهر یوثلث دی خیرات سی نودا وصیت جائزدی اوکه نه؟

جواب: په شرعی حیثیت سره ددی دمهر چی کمه حصه پر ذمه دخاوند ثابته وی دهغه په ثلث کی وصیت به جاری وی اوباقی روپی به پر وارثانو تقسیم چی په دی کی خاوند هم شامل دی خوکه ددی مخکی معافی یا دخاوند ادا کول ثابت وی نوبیا ددی وصیت کالعدم دی. فقط

چی کم مهر مقرر سی هغه دخاوند پرذمه دی؟ سوال: (۱۴۱۰) دښځی خاوند مورث اعلی مهر یولك پنځه ویشت زره یوسل پنځه ویشت اشرفی وو، دمورث اعلی په خاندان کی تراوسه دامذکوره مهر بی دلحاظ دامدنی او دطاقت دخاوند شخه تبرکا اورسمًا مقرر کیږی څه نیت دیوی ډلی هم نه وی اونه یې اداء کول په وجه دغریبی ممکن دی، نوزید اوهنده هم ددی خاندان غړی وه په وخت دعقد صرف شپږ ویشت روپی دمیاشتی په تنخواه و، نورڅه قیمتی جائیداد نه لری دخاندانی رواج مطابق یې دغه مهر وتړی او دورکولو نیت یې نه وو اونه په موقع دمحل سره داکیدی سوه اوس دهندی زوی عمر په سبب دجرم دفوج داري ملزم ثابت سو اودده تنخواه په سبب دجرم مذکوره دسرکاره بنده سوه اوچی پلار په خپل ژوند کی بیل کړی وو اوتر مرگه یې دصورت شخه بی زاره وو طالب دمهر متروکه دی ددی شخه علاوه دزید دوی ښځی نوری هم دی چی دهغوی مهر پر ذمه دمیت واجب الاداء دی اوپه دوی کی یوه ښځه سلمٰی پرمتروکه دمیت قابضه ده (چی قانونا باطله ده) اوچی څه دهندی سره سویدی نواٰیا دانکاح صحیح کیدی سی؟ او صورت دصحت دنکاح آیاپه لحاظ دشرعی احکامو داسی معاهده واجب التعمیل دی او ددی ذمه داری پرمتروکه عائد کیدی سی؟ آیادوهمی ښځی (سلمٰی) قابضي دجائیداد ته هم ددی مهر(دوه زره اوشرعی حصه) دده دمتروکي شخه مکمل رسیدی سی؟ آیا وروسته دادا کولو دمهر (دسلمٰی) شخه دمقبوضه جائیداد شخه بی دخله کیدی سی ؟ آیا د داسی

(۱) عالمگیری مصری باب سابع فصل ثانی عشر ج۱ ص ۳۲۲ ط. ماجدیه ج۱ ص ۳۲۲. ظفیر
(۲) ایضا. ظفیر

صفتونو والا زوی متروکه اخیستی سی اوکه نه؟

جواب: دمسئلی جواب دادی چی څومره مهر په عقد دنکاح دتراضی دطرفینو مقرر سی نودا مقدار چی څومره هم زیات وی مثلا یولك پنځه ویشت زره روپی اویوسلو اوپنځه ویشت اشرفی یاددی څخه هم زیاتی وی دغه مقدار دمهر دخاوند پرذمه واجب دی، او ددی اداء کول پرخاوند واجب اوضروری دی (۱) په شان دنورو قرضونو نیت یي دورکولو وی اوکه نه وی، قانونا دامعاهده باطله وی اوکه نه وی خوشرعا دامعاهده اودین واجب الاداء دی اوپه دی معاهدی سره اوپه دی مقدار دمهر نکاح دزید او دهندی بلا شك او شبه صحیح سویده اورقم دمهر دخاوند پرذمه واجب وو چی ده په خپل ژوند کی اداء نه کی نو دده په مرګ دده دترکی څخه دواړو ښځو سلمی اوهندی ته ادا کول واجب دی او دتکفین او دتجهیز څخه علاوه پرنورو حقونو مقدم دی (۲) نوددی وجه څخه دزید دترکی څخه وروسته داخراجاتو دتجهیز اودتکفین څخه دواړه ښځو سلمٰی اوهندی ته به مهر اداء سی نوکه ددی څخه وروسته که څه باقی پاته سی نوپه شرعی وارثانو به دشرعی حصو مطابق تقسیم سی اوکه ترکه دزید ددواړو ښځو دمهر دپاره کافی نه وی نو دواړو ښځو ته به دمهر مطابق حصه ورکول سی یعنی چی دکمی ښځی مهر زیات وی هغې ته به ددې په نسبت سره زیات اوچی دکمی داکم وي نودې ته به دهغه په نسبت دمهر مقدار ورکول په کاردی. فقط

دریم فصل

دجهیز مسائل ، او متفرقی مسئلې

جهیز به دانجلۍ وی اوکه دهلك؟ سوال: (۱۴۱۱/) محمد خلیل خپلی ښځی رحمت ته طلاق بائن ورکړی په وخت دعقد دښځی پلار خپلی لور رحمت ته په جهیز کی لوښی وغیره ورکړه نودا دچا ملکیت دی؟

جواب: دغه سامان دجهیز درحمت ملکیت دی اودمحمد خلیل په دی کی حصه نسته (۳)

---

(۱) قال الله تعالی وان اتیتم احدهن قنطارا فلا تاخذوا منه شیئا. (سورة النساء) قنطار مال کثیر ته وایي چی ددی څه حد نسته. ظفیر

(۲) ثم تقدم دیونه التی لها مطالب من جهة العباد ویقدم دین صحة علی دین المرض (درمختار) دین الصحة هو ما کان ثابتا بالبینة مطلقا او بالاقرار فی حالة الصحة (ردالمحتار کتاب الفرائض ج۵ ص۲۴،ط.س. ج۲ ص۷۲) فارغ عن دین له مطالب من جهة العباد ولو صداق زوجة الموجل للفراق (ایضا کتاب الزکوٰة ج۲ ص۷، ط. س. ج۱ ص۲۲۰). ظفیر

(۳) جهز ابنته بجهاز سلمها ذالك لیس له الاسترداد منها ولا لوارثة بعده ان سلمها ذالك فی صحة بل تختص به وبه یفتی وکذا لو اشتراه لها فی صغرها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۵۰۳، ط. س. =

(نو معلومه سوه چې جهيز دانجلۍ حق کيږی نه دهلك. ظفير)

جهيز به دانجلۍ وي اوکه دهلک دپلار؟ سوال: (۱۴۱۲) زيد دخپل زوی واده دبکر دلور سره وکی اوچی کم لوښی بکر په جهيز کی ورکړل دازيدپه خپلو پخوانيو لوښوکی کښی ښوول څو ورځی وروسته زيد دخپلی لور واده وکی اودبکر په مخکی يي دده جهيز دلور دلوښو څخه خپلی لور ته ورکړی بکر منع نه کړل آيا بکر يالور دبکر دزيد څخه دغه لوښی بيرته اخيستی سی اوکه نه؟ په دی بناء لور ددی خاوند کره نه ليږی ځکه چی دی نکاح فسخ کول غواړی.

جواب: چی کم ظروف وغيره بکر دخپلی لور په جهيز کی ورکړيدی نوهغه دلور ملکيت دی بکرته ددی دبيرته اخيستو هيڅ حق نسته خولور دبکر دزيد څخه دالوښی اخيستی (۱) سی اودبکر بندول دخپلی لور دخاوند دکوره صحيح نه دی اوبغير دطلاق اچولو دخاوند څخه مخکی نکاح نه سی فسخ کولی اونه فسخ کيدی سی. فقط

خاوند مړسو دانجلۍ پلار چی کم کالی ورکړی وه هغه دخسروی اوکه دانجلۍ اودمهر څه حکم دی؟ سوال: (۱۴۱۳) يوسړی دخپلی لور عقد دعبدالستار دزوی سره په عوض دپنځو سوو روپيو دمهر وکی يوه مياشت وروسته هلك بی داداء کولو دمهر څخه مړسو نو اوس دانجلۍ دوهمه نکاح مقرره سويده دکونډی پلار چی په واده کی کم کالی خپلی لورته ورکړی وه هغه دکونډی خسر عبدالستار طلب کوی اوکونډه خپل مهر طلب کوی ځکه چی که کالی دعبدالستاردی نودکونډی مقرر مهرده لره اداکول په کاردی اوکه نه؟

جواب: دکونډی کم کالی اوسامان چی ددی دپلار دلوري دی ته ورکول سوه هغه دښځی ملکيت دی اوکه نه په دی کی دعبدالستار دخسر حق نسته اودعوه دده باطله (۲) ده او مهر دکونډی پرذمه ددی دخاوند دی که دخاوند څه ترکه وی نوددی څخه دا اخيستی سی دخاوند دپلار عبدالستارڅخه يي نسی اخيستی خوکه عبدالستار يي ذمه دار سوی وی نو دده څخه يي اخيستی سی. فقط

کالی دخاونددمرګ څخه وروسته دده پلاراخيستی سی اوکه نه؟سوال: (۱۴۱۴) دزيد دزوی

= ج۳ ص۱۵۵). ظفير

(۱) فلا خلاف في كون الجهاز للبنت لما في الولوالجية جهز ابنته ثم مات فطلب بقية الورثة القسمة فإن كان الأب اشترى لها في صغرها أو في كبرها وسلم لها في صحته لها خاصة اهـ (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۵۰۴ ، ط. س. ج۳ ص۱۵۷ مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عارية). ظفير

(۲) ولو دفعت في تجهيزها لابنتها أشياء من أمتعة الأب بحضرته وعلمه وكان ساكتا وزفت إلى الزوج فليس للأب أن يسترد ذلك من ابنته لجريان العرف به وكذا لو أنفقت الأم في جهازها ما هو معتاد والأب ساكت (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۵۰۵ ، ط.س. ج۳ ص ۱۵۷). ظفير

واده دهندی سره وسو اوس دزید په ژوند کی بکر وفات سو یوزوی اوښځه او پلار زید یي پرېښوی دعدی څخه وروسته هندی دوهمه نکاح وکړه زید هندی ته څه کالی ورکړی وه چی دی دابیرته اخیستل غواړی اودهندی دجانبه دمهر دعوٰی سویده. دمهر اداء کول دزید پرذمه دی بکر دخپل پلار سره اوسیدی، دزید سره دمعمولی سامان دکور داوسیدو څخه علاوه څه بل جائیداد نسته زید یي دبکر دزوی څخه اخیستی سی اوکه نه اوهندی ته چی یي کم کالی ورکړی دی هم داخیستو دی اوکه نه دمهر معانی معلومه نه ده په دی کی به دهندی قول معتبروی اوکه نه؟

جواب: موافق دعرف چی کم زیور زید دخپل زوی بکر ښځی ته ورکړی دی داده خپل زوی ته ورکړی وه، ددی وجه څخه دمرګ دبکرڅخه وروسته دی دهندی څخه زېور واپس نسی اخیستی هنده په خپل مهرکی دازېور ساتلی سی (۱)، اوچی کله دمهر دمعافی شاهد نسته نوقول دهندی معتبردی، اوهندی که دوهمه نکاح دداسی سړی سره کړیده چی غیردی دهلك محرم نه دی نوحق دپالنی دهندی ساقط سو، انا، ترور وغیره چی کم موجودوی حق دپالنی دهغه دی ولایت دنکاح دنیکه یعنی دزید دی. فقط

<u>کم کالي چي ورکول کيږي ښځه دهغه مالکه کيږي اوکه نه؟</u> سوال: (۱۴۱۵) چی کم کالی وغیره دخاوند دطرفه ښځی ته ورکول سی نوښځه ددی مالکه کیږی اوکه نه؟

جواب: زموږ په ښارونوکی هم داعرف او رواج دی، چی دکالی وغیره ښځه مالکه جوړیږی اوښځه ددی مالکه ګڼل کیږی نوپه دی صورت کی ښځه ددی مالکه ده او دخاوند په دی کي هیڅ حق نسته. فقط

<u>دانجلۍ دجهیز او دهلک دجامو ملکیت چاته حاصل دی؟</u> سوال: (۱۴۱۶) په وخت دنکاح چی په جهیز کی کم شیان انجلۍ ته ورکول سوی دی اودزوم دپاره چی کم لباس مکلف جوړ سویدی نوددی مالك هلك دی اوکه انجلۍ ده؟

جواب: دپلار دطرفه چی څه شیان انجلۍ ته ورکول سوی دی په جهیزکی نوددی دامالکه ده اوهلك ته چی کمی جامی اونقد ورکول سویدی دادهلك ملکیت دی دانجلۍ سره ددی هیڅ تعلق نسته. فقط

<u>چی کم کالي يي ورکړيدی دطلاق څخه وروسته داخاوند بيرته اخيستی سی اوکه نه اوښځه به مهر اخلي اوکه نه؟</u> سوال: (۱۴۱۷) دزید دبکر دبالغی لور سره نکاح وسوه اوزید

---

(۱) ولو بعث إلى امرأته شيئا ولم يذكر جهة عند الدفع غير جهة المهر الخ فقالت هو أي المبعوث هدية وقال هو من المهر الخ فالقول قوله بيمينه والبينة لها فإن حلف والمبعوث قائم فلها أن ترده وترجع بباقي المهر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۹۹، ط.س. ج۳ ص۱۵۱). ظفير

دځلور نیمو سوو روپو دسرو اودسپینو کالی دبکر لور ته ورکړل داستعمال دپاره، اوبکر دخپلی لور مهر پنځه سوه روپی کالی مقرر کی چی زید قبول کی بکر دوعدی مطابق خپله لور واده نه کړه اونه یي دواده کولو اراده معلومیږی داسبب دطرفینو دخفګان دی نوددی خفګان دختمولو دپاره ددی څخه علاوه بل صورت نسته چی زید منکوحه ته طلاق ورکړی اوچی هلك اوانجلۍ ته دیوازي کیدو هیڅ موقع نه ده ورکول سوی نومهر به څومره ورکول سی اوکالی دزید دښځی څخه بیرته اخیستل ضروری دی اوکه نه؟

جواب: که خاوند خپلی ښځی ته دوطی اودخلوة څخه مخکی طلاق ورکی نونیم مهر اداء کول واجب دی په درمختار کی دی: ویجب نصفه بطلاق قبل وطی اوخلوة الخ (۱). ددی وجه څخه په دی صورت کی دوه نیم سوه روپی مهر ادا کول پرذمه دزید واجب دی او چی کم کالی زید دښځی ملکیت کړیدی نودا دطلاق څخه وروسته بیرته نه سی اخیستی اوکه مستعار یي ورکړی وی نوبیایي بیرته اخیستی سی اوکه زیاتی دخاوندوی نودده دښځی څخه په بدله دطلاقو کی څه اخیستل مکروه دی. فقط

ښځه خاوند دخپل ځان سره ساتلی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۴۱۸) یوی ښځی دخپلی لور واده دیوسړی سره وکی اوپه وخت دعقد یي داشرط کی چی تریوه کاله پوری چی دخاوند دمعاش یادملازمت څه بندوبست وسی زه به خپله لور پرخپل کور ساتم ددی وجه څخه تریوه کاله پوری خاوند په ډیره ناخوښتیا دښځی بیلتون تیرکی دیوکال څخه وروسته چی کله دمعاش بندوبست هم وسو خاوند خپله ښځه خپل ځان ته دوطن څخه دباندی رابلل وغوښتل خوددی مور یي لیږل نه غواړی نوخاوند ته دبیولو حق حاصل دی اوکه نه؟ اوتریوه کاله پوری دنه بیولو وعده دخاوند پر ذمه پوره کول واجب وه اوکه نه؟ اودخاوند ښځه په سفر کی بیول ظلم دی اوکه نه؟

جواب: دوطن څخه دباندی په سفر دبیولو په باره کی فقهاؤ داتفصیل کړیدی چی که خاوند مهر ادا کړی وی که معجل وی اوکه موجل نودوطن څخه دباندی یي په سفر بیولی سی په دی شرط چی ښځه راضی وی اودخاوند له لوري اطمنان وی چی دی به تکلیف نه ورکوی اوکه مهر یي نه وی اداء کړی اوښځه په سفر تللو باندی راضی نه وی نوخاوند یي جبراً نسی بوتلی. والذی علیه العمل فی دیارنا انه لایسافر بها جبراً علیها وجزم به البزازی وغیره وفی المختار وعلیه الفتوٰی (۲) ددی عبارت حاصل دادی چی

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۲، ط.س. ج۳ ص۱۰۴. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر مطلب فی السفر بالزوجة ج۲ ص۴۹۵، ط.س. ج۳ ص۱۴۲.

معمول به دادی چې جبراً خاوند ښځه په سفر نه سی بیولی اوپه شامی کی دی چې دفقیه ابوالقاسم صفار اودفقیه ابواللیث څخه روایت دی چې بغیر دښځی درضا څخه خاوند دا مطلقا په سفر نه سی بیولی نوکه ښځه راضی وی نوداپه سفر یاپه ملازمت بیول ظلم نه دی (۱) اوخاوند چې کمه وعده دیوکال دنه بیولو کړی وه اوده پوره کړه داپه خاوند لازم نه وه ددی وعده پوره کول مستحسن وو. کما ورد فی الحدیث احق الشروط ان توفوا به ما استحللتم به الفروج. متفق علیه (۲) یعنی چې کم شرطونه په وخت دنکاح سوی وی دمهر او نفقي اورخصت وغیره ددی پوره کول احق اوانسب دی. فقط

دحضرت علی ﷺ څخه نبی کریم ﷺ دجهیز سامان اخیستی وو اوکه نه؟ سوال: (۱۴۱۹) په تواریخ حبیب الله کی دی چې نبی کریم ﷺ دحضرت فاطمه ﷺ په نکاح کی پر حضرت علی ﷺ زغره خرڅه کړه اوپه جهیز کی یي ولګوله، ددی روایت څخه ثابتیږی چې دواده دزلمی څخه څه واخلی اوپه جهیز وغیره کی یي خرڅ کړی؟

جواب: احتمال لری چې حضور ﷺ دحضرت علی ﷺ څخه ځکه روپی دجهیز دسامان دپاره اخیستی وی ددوی ﷺ سره په دغه وخت کی څه موجود نه وه، په هرحال ددی په جواز کی هیڅ کلام نسته چې دانجلۍ مور اوپلارکه په خاوند سامان دجهیز وکړی اودده څخه روپی واخلی اوسامان دنکاح مرتب کړی نوهیڅ پروا نسه فقهاء چې کمه صنعه کوی نوهغه داده چې دخاوند وغیره څخه به روپی واخلی او دځان سره یي کښیږدی (۳).

دمور اوپلار دداج وغیره او دخسرګنۍ دکالو وغیره مالک څوک دی؟ سوال: (۱۴۲۰) یوه ښځه سنیه چې دهغې نکاح موافق دشرع محمدی سویده اودیته په داج کی مور اوپلار اوپه مخکی خواښی اوخسرڅه کالی لوښی وغیره درواج مطابق ورکړیدی نو دشریعت په بناء دا لوړ مذکور شیان په طور داستعاری یاددی کامل مالك ښځه ده او که نه؟ که نه ده

---

(۱) ثم ذکر من الفقیهین ابی القاسم الصفار وابی اللیث انه لیس له السفر مطلقا بلا رضا وفساد الزمان (رد المحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۵، ط.س. ج۳ ص۱۴۲). ظفیر

(۲) مشکوٰة باب اعلان النکاح ص۲۷۱. ظفیر

(۳) دحضرت فاطمه ﷺ دواده په سلسله کی چې ټول څومره روایتونه دی دهغو دانیتجه ده چې حضرت علی ﷺ خپله زغره په مهرکی ورکړی وه اوپه کورکی هیڅ سامان نه وو اوپه خپله نبی کریم ﷺ هم دا سامان نه سو ورکولی نوددی وجه څخه یي حضرت علی ﷺ ته وفرمایل چې دمهر والا زغره خرڅه کړه اوچې ددی څخه څه رقم لاس ته راسی په دی ضروری سامان واخله چې په خپله دحضرت علی ﷺ بیان دی چې: فبعتها من عثمان ابن عفان باربعمائة وثمانین درهما ثم ان عثمان رد الدرع الی علي وجاء بالدرع والدراهم الی المصطفی ﷺ فدعا لعثمان ﷺ بدعوات کما في روایته (زرقاني شرح المواهب اللدنیة ج۲ ص۳) وروسته زرقانی" داهم لیکی چې: یشبه ان العقد وقع علی الدرع وانه ﷺ اعطاها علیا ﷺ لان یبیعها واتاه بثمنها (ایضا ج۲ ص۲). ظفیر

نو دښځې اودخاوند په مور اوپلار کی څوك ددی مالکان دی؟

جواب: چی څه دښځې مور اوپلار په داج کی ورکړيدی ددی مالکه ښځه ده دښځې مور اوپلار يا خسرګنی ددی مالك نه دی اوچی کم کالی خواښی اوخسر باندی اچولی دی نو هغه مستعار ګڼل کيږی دادښځې ملك نه دی والله اعلم (دا دکالو والا مسئله په اصل کی پررواج موقوفه ده اويا دخواښی اوخسر پرقول، په بعضی ځايونو کی چی دخواښی او دخسر دطرفه چی کمه جامه اوکالی انجلۍ ته ورکول کيږی نودا ورته په طور دهبی وی نوبيايې دامالکه ده اوپه بعضو ځايونوکی نه وی، نودا فيصله په رواج يا دخسرګنۍ په بيان ده ([1]). ظفير)

کالی اوجامه چی کمه انجلۍ ته ورکول سی نودا دچا ملک دی؟ سوال: (۱۴۲۱) چی کم شی کالی وغيره ناوی ته دنکاح څخه مخکی يا وروسته دنکاح څخه ورکول کيږی دا دښځې حق دی اوکه دخاوند؟

جواب: چی کم شی دمور اودپلار دطرفه ورکول سی نودا دښځې ملکيت دی اوچی کم شی دخاوند يادده دمور اوپلار دطرف څخه ورته ورکول سويدی په دی کی دنيت اعتبار دی چی څنګه نيت وی اوچی دچا دپاره نيت وي هم دهغه ملکيت دی ([2]). فقط

دانجلۍ دولی روپی اخيستل اونکاح کول اوبيا داپه مصرف کی راوستل څنګه دی؟ سوال: (۱۴۲۲) څه فرمايي ددين عالمان اومفتيان په دی مسئله کی چی يوسړی دخپلی لور په نکاح کی دخپل زوم دولی سره په دی شرط خبره وکړه چی که ته ماته شل ديرش روپی راکړې نوزه به دخپلی لور نکاح ستا دزوی سره وکړم کنې نو نه بيې کوم نودا روپی اخيستل اوپه خپل مصرف کی راوستل صحيح دی اوکه نه؟

جواب: دخپلی لورپه نکاح کی دپلار دزوم دولی څخه روپی اخيستل اوبی له روپو نکاح نه کول لکه چی په سوال کی ليکل سويدی اودا روپی په خپل خرڅ کی راوستل صحيح نه دی بلکی حرامې دی ځکه چی دولی اخيستل رشوت دی اورشوت ورکول اواخيستل دواړه ګناه دی اوهم حرام دی اوچی کم رشوت واخلی هغه دمرتشی (درشوت اخيستونکی) په ملکيت کی نه راځی بلکی راشی (رشوت ورکونکی) ددی مالك دی او پرمرتشی داروپی بيرته ورکول لازم دی اوراشی دی دابيرته واخلی. کمافی الدرالمختار

([1]) جهز ابنته بجهاز وسلمها ذالك ليس له الاسترداد منها ولا لورثته بعد ان سلمها ذالك فی صحبته بل تختص به وبه يفتی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۵۰۲، ط. س. ج۳ ص۱۵۵) لو بعث الی امرأته شيئا (الی قوله) فالقول له بيمينه ايضا ج۲ ص۴۹۹، ط.س. ج۳ ص۱۵۱ مطلب فيما يرسل الی الزوج. ظفير

([2]) ددې دپاره وګورئ ددې څخه مخکې حواله. ظفير

اخذ اهل المراة شيئا عند التسليم فللزوج ان يسترده لانه رشوة وذكر فى الشامى قوله عند التسليم اى بان ابىٰ ان يسلمها اٰخره اونحوه حتىٰ ياخذ شيئا وكذا لو ابىٰ ان يزوجها فللزوج الاسترداد قائما اوهالكا لانه رشوة بزازيه شامى (۱) جلد۲. اودارکم په شامی کی دی: الرشوة يجب ردها ولاتملك (۲) شامی جلد۴ ص۴۷۱. اوپه فتاویٰ خیریه کی دی: سئل في امرأة ابنى الى اقاربها ان يزوجوها الا ان يدفع لهم الزوج كذا فوعدهم به هل يلزم ام لا؟ اجاب لا يلزم ولو دفع فله ان ياخذه قائما او مالكا لانه رشوة كما فى البزازيه (۳). اوپه طحطاوی کی دی چی دحرام څخه دی هغه مال چی دعقد دنکاح په مینځ کی څه مال واخلی اوپه جامع ترمذی کی دعبدالله بن عمرؓ څخه روایت دی چی: لعن رسول الله ﷺ الراشي والمرتشي (۴). فقط

چی نیم مهر واخلی اوخلکو ته خوراک ورکړی نوڅنګه دی؟ سوال: (۱۴۲۳) ۱. خوپه دی صورت کی خلګ دده کره خوراك نه کوی نو خلګوته دخوراك ورکولو دپاره داحیله کوی چی مخکی عقد کوی او دانجلۍ ولی ته مخکی دعقد څخه داوایي چی ته به دعقد څخه وروسته دنیم مهر مالکه سی اودعقدڅخه وروسته ته داووایه چی ته ماته زما دمهر څخه نیم راکړه خودا انجلۍ داخبره نه کوی بلکی دانجلۍ ولی یي وکړی اوپه دی یي واخلی اوس په دی حیله سره خلګو ته خوراك ورکول جائز دی اوکه نه؟

۲. دانجلۍ په نامه ددې ولي دعقد څخه وروسته نیم مهر اخیستی سي اوکه نه؟ بینوا تؤجروا عند الحساب! فقط

جواب: ۱. په مذکوره حیله چی کم په سوال کی لیکلي ده چی نیم مهر وصولول اوپه خپل خرڅ کی راوستل اوپه جنج والا باندی داخوراك کول صحیح نه دی بلکی حرام دی ځکه چی مذکوره ولی دخپلی لور څخه مخکی دعقد څخه اجازه دوصولولو دنیم مهر غواړی چی ولی دلور په نوم دامهر وصول کړی اوپه خپل خرڅ کی یي راولی لکه چی دسوال څخه معلومیږی اودباقی مهر مالکه لور ده اوحال دادی چی په حقیقت کی داطلب داجازی علی سبیل الهبه دخپل ځان دپاره دی ولي چی په عقد کی اعتبار دمعانی او مقاصدو دی نه دصورت او دالفاظو کمافی الهداية العبرة للمعانی لا للصور هكذا فى فصول العمادی. اولور په باره کی داجازی ورکولو چپ ده اولفظ دلا یا دنعم یي نه دی

(۱) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۵۰۳ ، ط.س. ج۳ ص۱۵۲. ظفیر

(۲) ردالمحتار کتاب القضاء مطلب فی الکلام علی الرشوت والهدية ج۴ ص۴۲۱. ظفیر

(۳) فتاویٰ خیریه ج۲ ص۲۸. ظفیر

(۴) ترمذی باب ما جاء فی الراشی والمرتشی ج۲ ص۲۱۱. ط.س. ج۵ ص۳۲۲. ظفیر

ویلی لکه چې دسوال څخه ښکاره ده نوپه داسې موقع باندې سکوت په منزله دنطق نه وی ځکه چې فقهاءِ کرامو چې کم سکوت پرمنزله دنطق ګرځولی دی نوهغه دری پنځوس مسائل دی اوپه دغه مسئلو کی دغه عقد نسته بلکې داثابتیږی په صراحت سره او ددی مسئلو شماره علامه شامی اوصاحب اشباه وغیره کړیدی من شاء فلیطالع فیها.
اوبالفرض که سکوت دمذکوره لور په باره دهبه کی په منزله دنطق وګرځول سی نوهم ولی لره مهر موهوبه قبل العقد یابعد العقد اوپه خپل تصرف کی رواستل صحیح نه دی ځکه چې که داانجلۍ بالغه وی نوددی وجه څخه دامهر اخیستل صحیح نه دی چې دعقد څخه مخکی موهب دواهب ملك نه دی ځکه چې وجوب دمهر په نفس عقد دنکاح سره کیږی ځکه چې دابدل بضع دی (کماصرح به فی الهدایه ص۳۸۰) نه مخکی دعقد څخه او دواهب ملکیت پرموهوب په وخت دهبی شرط دی ددی دپاره چې تملیك دغیر مملوك لازم نسی کم چې باطل دی، په درمختارکی لیکی چې: شرائط صحتها فی الواهب العقل والبلوغ والملك. درمختار علی هامش الشامی ج۲ ص۷۰۰. اوپه کفایه حاشیه هدایه کی دی: التملیك من غیر المالك لا یتصور. ددی څخه علاوه چې مذکوره انجلۍ دعقد څخه مخکی دخپل مهر چې دابه یي دعقد څخه وروسته مالکه کیږی هبه کی نوپه دی کی اضافت دتملیك هغه شی ته وسوچی وروسته به دهغه وجود وی اودا اضافت صحیح نه دی. کما فی الهدایه واضافة التملیك الی ما سیوجد لا یصح. اوکه دا انجلۍ نابالغه ده نوهبه دنابالغی صحیح نه ده لکه چې په عبارت ددرمختار کی وه. په هرحال ذکرسوی حیله ناجائزده اوچی کم مال په طریقی دناجائز ګټل سوی وی دهغه خوراك کول ناجائز دی په فتاویٰ هندیه کی لیکی: آکل الربا وکاسب الحرام أهدى إليه أو أضافه وغالب ماله حرام لايقبل ولا يأكل ما لم يخبره أن ذلك المال أصله حلال ورثه أو استقرضه (عالمګیری ص۳۴۳ کتاب الکراهیة الباب الثانی فی الهدایا والضیافات).
۲. ددوهم: سوال جواب دادی چې مهر پر دوه قسمه دی موجل په همزی سره اومعجل په عین سره، په مخکی صورت کی خوحق دمطالبی اودمهر قبض کول مخکی دطلاق واقع کیدو یادمرګ څخه نه ښځی ته سته اونه ددی ولی ته لکه چې په فتاویٰ دابراهیم شاهی کی لیکی چې: المهر لایخلو ان یکون بشرط التعجیل اوسکوت عنه فانه یجب فی الحال معجلا وان کان موجلا فلیس لها حق المطالبة. اوپه فتاویٰ عالمګیری کی دی: لا خلاف لأحد أن تأجيل المهر إلى غاية معلومة نحو شهر أو سنة صحيح وإن كان لا إلى غاية معلومة فقد اختلف المشايخ فيه قال بعضهم يصح وهو الصحيح وهذا لأن الغاية معلومة في نفسها وهو الطلاق أو الموت ألايرى أن تأجيل البعض صحيح وإن لم ينصا على

غاية معلومة عالمگیری ج۱ ص۳۱۸. فقط

ښځې ته ورکول سوي کالي : **سوال**: (۱۴۲۴) په وخت دنکاح چې ښځې ته کم کالي او جامې وغیره ورکول کیږي نوپه وخت دطلاق خاوند لره دابیرته اخیستل جائزدي اوکه نه؟ په دې صورت کې چې دایې مالکه اومختاره گرځولې وي نودشرع په اعتبار سره څه حکم دی؟ بینوا وتوجروا.

جواب: په درمختار کې دي: ولو بعث إلى امرأته شيئا ولم يذكر جهة عند الدفع الخ فقالت هو هدية وقال هو من المهر فالقول له بيمينه والبينة لها ، فإن حلف والمبعوث قائم فلها أن ترده وترجع بباقي المهر الخ أو كله إن لم يكن دفع لها شيئا منه الخ شامی وفيه او ادعت انه اى المبعوث من المهر وقال هو وديعة فان كان من جنس المهر فالقول لها وان من خلافه فالقول له لشهادة الظاهر (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۹، ظفیر) ددې حاصل دادی چې که دښځې اودخاوند جګړه وي ښځه وایي چې ماته څه راکول سوي وه داهدیه ده اوخاوند وایي چې دامهردی نوقول دخاوند معتبردی اوشاهد دښځې معتبردي اودقسم څخه وروسته بیرته خاوند چې خاوند موجود وي دابه خاوند ته ورکول سي اوښځه به دخپل مهر مطالبه وکړي یعنې که دی نه وي وصول کړي. انتهٰی بحاصله. او ددوهم روایت حاصل دادی چې که ښځه دا ووایي چې ماته څه راکول سویدي دامهر دی اوخاوند وایي چې دا امانت دی نوکه داشیان دمهر دجنسه وي یعنې نقدي روپي او کالي وي نودښځې قول معتبردی اوکه ددې خلاف وي نودخاوند قول معتبردی الخ.

نو که په مسئوله صورت کې خاوند ووایي چې داکالي وغیره عاريةً وه اوښځه ووایي چې مهر وو نودښځې قول معتبردی خاوند دابیرته نه سي اخیستی، اوکه ښځه دعویداره دهبې اودهدیې وي اوخاوند دمهر نودخاوند قول معتبردی اوکه مهر ورکول سوي وي او خاوند دعویدار دعاريةً وي نوبیا هم قول دخاوند معتبردی ځکه چې عادةً کالي وغیره ښځې ته هبه نه ګڼل کیږي اوس عرف دادی چې کم شیان په جهیز کې ښځې ته دمور پلار دطرف څخه ورکول سوي وي نودا دښځې ملکیت دی اوچې کم کالي وغیره دخاوند دطرفه څخه دي نودا عاريةً دي. والله تعالی اعلم

اتم باب (دکافر نکاح)

دارتداد او دکفر سره متعلق احکام اومسائل دنکاح

دایمان دبې حرمتې کولو څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۴۲۵) ښه تعلیم یافته وکیل سره دپوهې داسې کلمات قبیحه په یوه لویه مجمع کې دخپلې خولې څخه ادا کړي چې زما ایمان زما تر بوټو یا چپلکو لاندې دی. نوشرعا دده دپاره څه حکم دی؟

جواب: داکلمه دکفرده چي چا داکلمه ویلی ده نوهغه کافرسو اودده ښځه دنکاح څخه ووتله لکه چي په درمختارکی دي: وارتداد احدهما فسخ عاجل [1]. نودی سړی لره توبه کول اوتجدید دایمان اوتجدید دنکاح کول لازم دی. فقط

په دی کلمی سره مرتد سو تجدید داسلام اوتجدید دنکاح ضروری دی؟ سوال: (۱۴۲۶) یو سړی بل ته وویل چی فلانی کار دشریعت دی ده په جواب کی وویل چی شریعت په خپل مقعد کی واچوه نوداسړی مرتدسو اوکه نه؟ اوکه دی توبه ونه کاړی نودده ښځه دی دبل چاسره نکاح وکړی اوکه نه؟

جواب: ددی کلمی په ویلوسره داسړی کافر اومرتد سو تجدید داسلام اوتوبه اواستغفار پرده لازم دی اودده ښځه دده دنکاح څخه خارجه سوه، چی دتجدید داسلام څخه وروسته دی تجدید دنکاح وکړی [2] اوکه دی نه توبه کاړی اوتجدید داسلام نه کوی نودده ښځه دعدی څخه وروسته دبل سړی سره نکاح کولی سی. کذا فی الدرالمختار [3]

ښځه مرزایي سوه نونکاح به فسخ وي اوکه نه؟ سوال: (۱۴۲۷) یوه ښځه حنفیه منکوحه په مرزایي عقیده سوه نوددی نکاح چی کم دحنفی سړی سره سوی وه نودا فسخ سوه اوکه نه؟ ښځی اوددې وارثانو دخاوند څخه دطلاق اخیستو تدبیرهم کړی وو !

جواب: په دی صورت کی چی کله داښځه پر مرزایي عقیدی باندی سوه نودغه وخت نکاح فسخ سوه دوباره دطلاق اخیستو ضرورت نه وو. کمافی الدرالمختار وارتداد احدهما فسخ عاجل [4] الخ. (دقادیانی پرکفر دعلماؤ اتفاق دی. تفصیل په اکفار الملحدین کی موجود دی هغه وګوره. ظفیر)

خاوند چی کله مذهب تبدیل کړی نوښځه دنکاح څخه بهر سوه اوکه نه؟ سوال: (۱۴۲۸) ماخپله لور دیوسړی سره په نکاح کړه دی سړی یوه ښځه بوتله چی دهغه هیڅ پته هم نسته بلکی ده خپل مذهب هم بدل کی نوانجلۍ یعنی دده ښځه دده دنکاح څخه دباندی سوه اوکه نه؟

جواب:که داخبره ثابته سی چی دی سړی خپل مذهب بدل کړیدی یعنی اسلام یي پرېښوی

---

(1) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص۱۹۳. ظفیر

(2) ان ما یکون کفرا اتفاقا یبطل العمل والنکاح وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح (رد المحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹ ، ط.س. ج۴ ص۲۳۰). ظفیر

(3) وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجل بلا قضاء (درمختار) وفرق الامام بان الردة منافیة للنکاح لمنافاتها العصمة والطلاق یستدعی قیام النکاح فتعذر جعلها طلاقا (ردالمحتار باب لنکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹، ط. س. ج۳ ص۱۹۳). ظفیر

(4) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹ ، ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفیر

اوعیسایي یا اریایي مذهب یي قبول کی نو دده ښځه دده نکاح څخه ووتله دی لره دوهمه نکاح کول صحیح دی. درمختار (۱). فقط

په کلماتو دکفرسره نکاح فسخ سوه: **سوال**: (۱۴۲۹) په زید اوعمر کی عداوت راروان دی زید ددی خبری عقد وکی چی که عمر خپله لور دزید زوی ته ورکړه نوزید ددې خبری قسم کوی چی دی به هیڅکله هم دعمر دلور سره دښمنی نه کوی اونه به تکلیف ورکوی نوزید قرآنکریم لوړکی اوقسم یي واخیستی اودزید دزوی سره دعمر دلور عقد وسو زید دعقد څخه وروسته جګړه اوفساد وکی اوانجلۍ ته یي ډیر تکلیف ورکی عمر خپله ټوپی دزید په پښوکی کښی ښووله اومعافی یي وغوښتله زید دوه واره داکلمه وویله چی که الله ﷻ دآسمان څخه راکښته سی اوماته ووایي نوبیابه یي هم معاف نه کړم عمر وویل داکلمات دکفر ولی دخولی څخه باسی نوبیا زید وویل چی زه کافر سوم اودایي هم وویل چی که دعمر دکور په طرف قبله سی نوزه به سجده ونه کړم په دی صورت کی دزید دپاره څه حکم دی په ښځی اوخاوند کی جدایي کیدی سی اوکه نه؟

جواب: زید چی کم کلمات دکفر ویلی دی نوددی سره دده کافر اومرتد کیدل ثابتیږی نو ده لره تجدید داسلام اوتجدید دنکاح ضروری (۲) دی اودده زوی چی خپلی ښځی ته نه نان نفقه ورکوی اونه طلاق ورکوی نوددی وجه څخه په سبب دحکم دبعضی امامانو شرعی قاضی دی دده ښځه دده څخه دجلا کولو حکم وکړی اوفسخ دنکاح دی وکړی او ددوهمی نکاح اجازه دی ورکړی ددې کار لپاره یواسلامی ریاست ته دی ولاړ سی او دهغه په قاضی یي کولی سی اودهغه ځای قاضی دی تفریق وکړی (۳). فقط

په مرتد کیدو سره نکاح فسخ سوه: **سوال**: (۱۴۳۰) دهندی نکاح موافق دشریعت دزید سره سوی وه چی په وجه دبد سلوکی دزید څخه هنده وتښتیدله اودیو هندو سیك په کورکي اوسیدله، اوس مي اریدلي دي چي هنده هم دیوی میاشتی څخه داسلام څخه اوښتی ده ارادةً، اودسکانو په اکالی پینت کی داخله سویده او اکالنه سویده یعنی مرتده سویده نوپه داسی صورت کی دهندی نکاح دزید سره چی وه باقی ده اوکه نکاح یي فسخ سوه؟

(۱) وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجل بلا قضاء فللموطوئة ولو حکما کل مهرها لتاکد به لوارتد وعلیه نفقة العدة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹، ط.س. ج۳ ص۱۹۳). ظفیر

(۲) ما یکون کفر اتفاقا یبطل العمل والنکاح الخ یؤمر بالاستغفار والتوبة (ای تجدید الاسلام اوتجدید النکاح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۲ ص۴۱۴، ط.س. ج۴ ص۲۳۰). ظفیر

(۳) په بهار کی دشریعت دقاضی اوپه نورو صوبو کی دشرعی جرګی په ذریعه خلاصون حاصلولی سی دتفصیل دپاره الحیلة الناجزة للتهانوی اوکتاب الفسخ والتفریق للرحماني وګورئ. ظفیر

جواب: په درمختار کی دی: وارتداد أحدهما فسخ عاجل الخ وتجبر علی الإسلام وعلی تجدید النکاح زجرا لها بمهر یسیر کدینار وعلیه الفتوی ولوالجیة، وأفتی مشایخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجرا وتیسیرا الخ (۱) فلکل قاض أن یجدده بمهر یسیر ولو بدینار رضیت أم لا وتمنع من التزوج بغیره بعد إسلامها ولا یخفی أن محله ما إذا طلب الزوج ذلك (۲) الخ (أما لو سکت أو ترکه صریحا فإنها لا تجبر وتزوج من غیره لأنه ترك حقه (۳) بحر. ظفیر)

ددی روایت څخه معلومه سوه چی په ارتداد دیوه دښځی او خاوند نکاح فسخ کیږی او که ښځه مرتده سی نودابه حاکم داسلام پراسلام راوړلو مجبوره کوی اوداول خاوند سره پرتجدید دنکاح به یې مجبوره کوی په شرط ددی چی خاوند ددی مطالبه وکړی او دمسلمانیدو څخه وروسته به یې ددوهم خاوند سره دنکاح کولو څخه حاکم منع کوی او دبلخ دمشائخو فتوٰی داده چی دښځی په مرتد کیدو سره تفریق دښځی او خاوند نسی کیدی په دی بنا داسلام څخه وروسته دی هنده داول خاوند سره په لږ مهر په تجدید دنکاح مجبوره کړی که اول خاوند زید ددی طالب وی. فقط

که دوباره مسلمان سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۴۳۱) که هنده دخپل بدفعل څخه توبه وکاږی اوبیا اسلام قبول کړی نوددی پخوانی نکاح دزید سره هم قائمه ده اوکه نه نوی نکاح به تړل په کاروی؟

جواب: داسلام راوړو څخه وروسته په لږ مهر دی دهنده نکاح دزید سره دوباره وسی.

داسلام څخه وروسته به دمخکی خاوند سره نکاح کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۴۳۲) که هنده داکالی مذهب څخه توبه وکاږی اواسلام قبول کړی اودا دزید سره په دوباره نکاح کولو راضی نه وی نوعمر چی ورور دزید دی ددی سره دهندی نکاح جائز کیدی سی اوکه نه؟ او دزید څخه دطلاقو ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: که زید هنده نه پریږدی نو داسلام څخه وروسته دی دهندی نکاح په زبردستی دزید سره وسی که هنده رضا وی اوکه نه؟ اودعمر سره دنکاح کولو څخه دی هنده بنده سی خوکه زید هنده نه ساتی نوپه دی صورت کی هنده دعمر سره نکاح کولی سی. فقط

دنوی مسلمانی سره یې نکاح وکړه ترڅه مودې پوری او داوسیدو څخه وروسته ښځه کافر سړی ته ورغله اوس بیا مسلمان خاوند ته بیرته راغله نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۴۳۳) یوه

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۴۰، ط.س. ج۳ ص۱۹۳. ظفیر
(۲) ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۴۰، ط.س. ج۳ ص ۱۹۴. ظفیر
(۳) ایضا ط.س. ج۳ ص ۱۹۴. ظفیر

کافره مسلمانه سوه اودیوه مسلمان سره یې نکاح وکړه ترڅه زمانې یوځای اوسیدو څخه وروسته دی مسلمان دانبځه په خپله نکاح کی پرې ښوولہ اودی بل ځای ولاړی څو ورځی وروسته دانبځه یو کافرته ورغله اوپه دوی کی اوسیدله اوهرقسم مذهبی کفری رسمونه یې اداء کول، څه موده وروسته اول خاوند بیرته راغی نودا ښځه هم مسلمانه سوه نواوس دی ښځی لره داول مسلمان خاوند سره هم په دغه نکاح کی اوسیدل جائزدی اوکه نه دنکاح دتجدید ضرورت سته؟ اوکه ددی سره داستبراء درحم دپاره دعدی تیرول وی نوپه څومره موده دمسلمانیدو سره دنکاح دفسخ حکم وسی اوعده تیره کړی اوکه ددری حیضونو څخه وروسته چی فسخ دنکاح وکړی او داوس څخه دفسخ دنکاح عده تیره کړی ؟

جواب: په دی صورت کی داحتمال دارتداد سره به هم حکم دارتداد نه کیږی نوددی وجه څخه ددی نکاح داول خاوندسره باقی ده اودا ښځه به ده ته ورکول سی اوهیڅ عده وغیره به لازمه نه وی اوزیات تر زیات دی احتیاطًا تجدید دنکاح وسی، کما هو الاحتیاط. کذا فی الشامی ([1]). فقط

چې دګم هلک سره دانجلۍ واده وسو نوهغه اهل قرآن کریم سو نو نکاح باقي ده اوکه فسخ سوه؟ سوال: (۱۴۳۴) عمر دخپلی لور نکاح دخپل وراره زید سره وکړه خوزید دبالغیدو څخه وروسته مخکی مذهب داهل حدیثو اختیار کی، وروسته بیا دمولوی عبدالله چکړالوی چی په اهل قرآن مشهوردی دده متبع سو اواحادیثو مبارکو څخه بالکل منکر سویدی اوس زید عمر ته وایي چی ته دخپلی لور دزینبی واده زما سره وکړه عمر وایي چی ته داهل سنت والجماعت ددائری څخه دباندی سوی یې آیا په دی صورت کی دعمر دلور دزینب نکاح دزید سره پاته سوه اوکه نه فسخ سوه؟

جواب: دعمر دلور نکاح په دی صورت کی دزید سره فسخ سویده. زینب دی دزید کورته ونه لیږل سی ([2]). فقط

په ارتداد سره نکاح ختمیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۴۳۵) دهندی نابالغی نکاح ددی پلار دزید غیرکفو سره وکړه بیا دبالغیدو څخه وروسته هنده دخاوند کره دتلو څخه انکار کوی اوهر څومره چی هم داخلګ پوه کړه چی شرعًا ستا نکاح سویده اواوس ستا تلل

([1]) وګوری ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص ۳۹۳ ، ط. س. ج۴ ص ۲۲۲. ظفیر

([2]) من لم یقر ببعض الانبیاء اولم یرض بسننه من سنن المرسلین فقد کفر (عالمگیری مصری باب احکام المرتدین ج۲ ص۲۲۳) وارتداد احدهما فسخ عاجل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفیر

هلته ضروری دی نوهندی په دی خبره وویل چی موږ قرآن کریم اواحادیث مبارکه نه سو منلی، نودامسلمانه پاته سوه اوکه نه؟ اواوس دهندی نکاح دزید سره قائمه ده اوکه نه؟
جواب: داکلمه دکفر اودارتداد ده اوپه ارتداد سره نکاح فسخ کیږی لکه چی په درمختار کی دی: وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ [1]. نونکاح هنده دزیدسره باقی پاته نه ده بلکی فسخ سوه. فقط
ښځه مرتده سوه نونکاح فسخ سوه اوکه نه؟ سوال: (۱۴۳۶) زهره دخپل خاوند بکر څخه خفه سوه اودمور اوپلار کره ولاړه اوعیسایي مذهب یي اختیار کړی نوپه دی صورت کی نکاح وسوه اوکه نه؟ اوچی کم قاضی ددی ښځی نکاح دبل سړی سره وکړه نودهغه امامت صحیح دی اوکه نه؟
جواب: په درمختار کی دی: وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ الی ان قال: وتجبر علی الاسلام وعلی تجدید النکاح زجراً لها بمهر یسیر کدینار وعلیه الفتویٰ ولوالجیة، وافتی مشائخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجراً وتیسیراً، [2] نوزهره دبل سړی سره نکاح نه سی کولی اودبکر په نکاح کی به وی اوهم پر دی به فتویٰ ورکول کیږی خوقاضی ته چی علم نه وو، اودبعضو روایاتو څخه دنکاح فسخ معلومیږی نوددی وجه څخه قاضی معذوره دی اوشرعا دده امامت اوقضاء بلاکراهته جائز اوصحیح ده اودبیا دپاره ده لره احتیاط کول لازم دی. فقط
چی خاوند مرتدسو نونکاح فسخ سوه نوچی بیا مسلمان سو نو دوباره به نکاح کول وی:
سوال: (۱۴۳۷) زید مخکی هندو وو، اودبالغیدو څخه وروسته مسلمان سو په حالت داسلام کی عمر دخپلی دولس کلنی لور نکاح دزید سره وکړه څومیاشتی وروسته زید بیا هندوسو نواوس خودده نکاح فسخ سوه خویو کال وروسته بیاده دمسلمان صورت جوړ کی، نواوس ددی انجلۍ نکاح په یوه طریقه دزید سره کیدی سی اوکه نه؟
جواب: چی کله داسړی مرتدسو نکاح دده فسخ سوه [3] اوس که داسړی بیا مسلمان سو او اسلام یي قبول کی نوددی انجلۍ په رضامندی که دابالغه وی بیانکاح کیدل په کاردی اوکه نابالغه ده یعنی ددی عمر پنځلس کاله نه دی اونه څه علامات دبلوغ په شان دحیض وغیره ښکاره سویدی نودولی په اجازه سره ددی نکاح به دوباره وسی. [4] فقط

---
[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۳. ظفیر
[2] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹ - ۵۴۰، ط.س. ج۳ ص ۱۹۳. ظفیر
[3] وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجل بلا قضاء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفیر =

دالله ﷻ څخه په انکار سره نکاح فسخ کيږي: **سوال**: (۱۴۳۸) يوواعظ يوی مزنيي ښځی ته نصيحت وکی چی دازنا پريږده په دی خبره دی ښځی وويل چی نه ماته دخدای ﷻ ضرورت نسته اونه دخدای دجنت، نوشرعا ددی ښځی نکاح ماته سوه اوکه نه؟

جواب: پردی ښځی باندی حکم دکفر او دارتداد دی (۱)، اوددی نکاح فسخ سوه اودی لره توبه اوتجديد داسلام کول پکاردی اوبيا دی نکاح وسی. فقط

خپل ځان ته په کافر اوپه مرتد ويلو سره نکاح فسخ سوه اوکه نه؟ سوال: (۱۴۳۹) يو مسلمان دخپل ځان په باره کی وويل چی زه بی ايمانه کافر اوسور يم اوتراوسه پوری يي توبه هم نه ده کښلی نودا سړی مرتد دی اوکه نه؟ اودده نکاح فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی داسړی کافر اومرتد سو پر ده توبه اوتجديد دايمان اوتجديد دنکاح کول لازمی دی ځکه چی په مرتد کيدوسره نکاح فسخ کيږی. کمافی الدرالمختار وارتداد احدهما فسخ عاجل. (۲) فقط

دقرآنکريم په توهين سره مرتد سو اونکاح فسخ سوه: **سوال**: (۱۴۴۰) محمد بخش اودده دښځی بتول په مينځ کی خفګان وو اومقدمه بازی کيدله چی بتول محمد بخش په ذريعه دخه سړيو راغي او ورته وي ويل چی که ته مانه وهی اونه می تکوی اوتکليف نه راکوی نوزه کورته ستاسره ځمه خوپه شرط ددی چی ته جومات ته ولاړسی اوپه قرآن کريم ګوتی کښيږدی اوقسم يي واخيستی چی زه به هيڅ قسم تکليف نه درکوم محمد بخش جواب ورکی چی قرآنکريم اوجومات نه پيژنم په سوونو داسی الوزی را الوزي، العياذ بالله، په دی صورت کی محمد بخش مرتد سو اوکه نه؟ اودده نکاح فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی په مذکوره الفاظو سره مذکوره سړی مرتد سو اونکاح په ارتداد سره فسخ کيږی. قال فی الدرالمختار وارتداد احدهما فسخ عاجل (۳) نومذکوره سړی دی دتوبی اودتجديد اسلام څخه وروسته دبتول سره دوباره نکاح وکړی غير

---

(۴) ذکر فی نور العين ويجدد بينهما النکاح ان رضيت زوجته بالعود اليه والا فلا تجبر (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۱۴ ، ط.س. ج۴ ص۲۴۲). ظفير

(۱) يکفر ای وصف الله تعالی بما لا يليق الخ اوانکر وعده ووعيده الخ اوقال خدای حاکمی را نشايد الخ فهذا کله کفر (عالمگيری مصری باب المرتد ج۲ ص۲۵۸) ان ما يکون کفرا اتفاقا يبطل العمل والنکاح وما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار والتوبة (ای تجديد الاسلام) وتجديد النکاح (ردالمحتار باب المرتد ج۲ ص۳۹۹، ط. س. ج۴ ص۲۳۰) قبيل مطلب فی حکم شتم دين مسلم). ظفير

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹، ط.س. ج۳ ص۱۹۳. ظفير

(۳) ايضا ، ط.س. ج۳ ص۱۹۳. ظفير

دتجدید داسلام اودتجدید دنکاح څخه مذکوره ښځه په خاوند محمد بخش باندی حرامه ده ([1]). فقط

په شرک اوپه کفر سره نکاح ماتیږی اوپه مسلمانیدو تجدید کیدی سی: **سوال**: (۱۴۴۱\) که یوسړی یایوه ښځه شرك اویا کفر وکړی نوددوی نکاح ماتیږی اوکه نه؟ که ماتیږی نوبیا دتوبه کولو څخه وروسته بغیر دعدی تیرولو څخه نکاح صحیح کیږی اوکه نه څه عده سته؟

جواب: په شرك اوکفر سره نکاح فسخ کیږی اوبیا تجدید دنکاح په عده کی صحیح دی ([2]).

دماتیدو څخه وروسته په دواړو کی چی کله یوهم خوشحاله نه وی: **سوال**: (۱۴۴۲\) که په مذکوره لوړ صورت کی نکاح ماته سی اوبیا سړی اوښځه که دیو بل سره رضانه وی نو ښځه دبل سړی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: که ښځه کلمه دکفر ووایي نوپه تجدید دنکاح باندی به دا مجبوره سی اودبل سړی سره دنکاح کولو اجازه دیته نسته. کذا فی الدرالمختار ([3]). فقط

کلمه دشرک یي وویله نو! **سوال**: (۱۴۴۳\) په وجه دبی علمی یایي قصداً کلمه دکفر وویله، او یایي شرك وکی اودی څوك وتښتوی اویابل چا دا وتښتوله نوددی ښځی دبل سړی سره نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: دبل سړی سره په تښتیدو خونکاح نه ماتیږی خوپه کلمه دکفر ویلو سره نکاح ماتیږی ([4]) اوبیا دی داپه تجدید دنکاح باندی مجبوره سی ([5]). فقط

ښځه عیسایي سوه نونکاح باقي پاته ده اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۴۴\) یوه بدکرداره ښځه چی دیوی ښځی سره اوسیده نودی خپل مذهب بدل کړی اودیوعیسایي انگریز سره اوسیدله

---

[1] ما یکون کفراً اتفاقا یبطل العمل والنکاح الخ یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۲ ص ۴۱۴ ، ط.س. ج۴ ص ۲۴۲). ظفیر

[2] وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجل بلاقضاء الخ (درمختار) وکذا بلاتوقف علی مضٰی عدة فی مدخول بها کما فی البحر (ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفیر

[3] ولو ارتدت بمجیئ الفرقة منها قبل تاکده الخ تجبر علی الإسلام وعلی تجدید النکاح زجرا لها بمهر یسیر کدینار وعلیه الفتوی ولوالجیة وأفتی مشایخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجرا وتیسیرا لا سیما التي تقع في الکفر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹، ۵۴۰). ظفیر

[4] لا یجب علی الزوج تطلیق الفاجرة (ایضا فصل فی المحرمات ج۲ ص۴۰۲، ط. س. ج۲ ص۴۲۷. وهکذا کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع). ظفیر

[5] وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجل الخ ولوارتدت الخ تجبر علی الاسلام وعلی تجدید النکاح زجرا لها (ایضا باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹ – ۵۴۰ ، ط.س. ج۳ ص۱۹۳). ظفیر

نوخاوند ددی ساتنه نه غواړی نوپه دی صورت کی ددی سړی نکاح ددی مذکوره ښځی سره چی هغې مذهب بدل کړیدی نودا نکاح قائمه ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ددی سړی نکاح دمذکوره ښځی سره باطله سوه ([1]). فقط

ددی مهر واجب دی اوکه نه؟ سوال: (۱۴۴۵) دمذکوره ښځی مهر دمخکی خاوند په ذمه واجب دی اوکه نه؟

جواب: چی که مذکوره ښځه مدخوله دخاوند ده نو دښځی مهر دخاوند پر ذمه واجب دی او دښځی په مرتد کیدو سره مهر نه ساقطیږی ([2]). فقط

دورته راتلونکي څه حکم دی؟ سوال: (۱۴۴۶) که دمذکوره ښځی مور اوپلار ددی سره تګ راتګ ساتی نودمور اوپلار دپاره یي څه حکم دی؟

جواب: دداسی خلګو سره مقاطعت لازم دی اوتمام اهل اسلام دی ددوی سره تعلقات ختم کړی. فقط

چي دنکاح څخه وروسته خاوند قادیانی سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۴۴۷) زما پلار خپله کشره لور یعنی زما کشره خور ددی ایجاب وقبول يي دجبار خان سره وکی خولا واده نه وو سوی چی جبار خان احمدی (قادياني) سو نوآیا دانکاح قائمه ده اوکه نه؟

جواب: چی کم سړی په احمدی جماعت کی داخلیږی یعنی قادیانی اوپه قادیانی جماعت کی شاملیږی نوهغه مرتد اوکافر کیږی اودده نکاح دمسلمانی ښځی سره باقی نه پاته کیږی نوددی وجه څخه سائل دی خپله خور جبار خان احمدی ته ونه لیږی اودادی دجبار خان منکوحه نه ګڼی اونه دی ورته وده وی اوپه بل ځای کی دی ورلره نکاح وکړی ([3]).

دعیسایي کیدو څخه وروسته نکاح باقی نه پاته کیږي: سوال: (۱۴۴۸) دښځی اودخاوند په مینځ کی تکرار وسو اوښځه عیسایي سوه نونکاح باقی ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح باقی پاته نه ده ([4]). فقط

چي بیامسلمانه سی نوڅه حکم دی؟ سوال:(۱۴۴۹)که ښځه بیامسلمانه سی نوداول خاوند

([1]) وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجل بلاقضاء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفیر

([2]) وللموطوئة ولوحکما کل مهرها لتاکد به (درمختار) قوله کل مهرها اطلقه فشمل ارتداده وارتدادها (رد المحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۴). ظفیر

([3]) وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجل بلا قضاء (درمختار) ای بلا توقف علی قضاء القاضی وکذا بلا توقف علی مضی عدة فی المدخول بها (ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفیر

([4]) وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجل بلاقضاء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفیر

څه حق باقي پاته دی اوکه نه؟

جواب: په بیا مسلمانیدو باندی به دابنځه اول خاوند ته ورکول سی یعنی دابنځه دی مجبوره سی چی دمخکنی خاوند سره نکاح وکړی، لکه چی په درمختار اوپه شامی کی دا مسئله لیکلی ده ([1]). فقط

خاوند چی رافضي سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۴۵۰) مادخپلی لور دنکاح کولو په وخت ښه تحقیق کړی دی چی داخلګ سنیان دی اورافضیان نه دی اوس داخلګ دشپږو کالو راهیسی رافضیان سویدی اوزما لور ته یي هم درافضی کیدو ویلی دی خوهغه انکار وکی نوډیر تکلیفونه یي ورکړل اوزما کور ته یي راوستله نوددی سنی انجلۍ نکاح دشیعه رافضی سره پاته ده اوکه نه؟ اوزه دخپلی مذکوره لور نکاح دیوسنیه سره کولی سم اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دخپلی لور دوهمه نکاح وکړه ځکه چی درافضی تبرایي سره دسنیي ښځی نکاح نه منعقده کیږی اوکه دنکاح څخه وروسته خاوند رافضی سی نو نکاح ماتیږی ([2]). فقط

خاوند عیسایي سو اوبیا مسلمان سو نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۴۵۱) یوسړی مسلمان وو او عیسایي سو ترشپږو میاشتو پوری عیسایي وو اوس بیا مسلمان سو نودده ښځه په بل ځای کی نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: چی کم وخت داسړی عیسایي سو دده ښځه دغه وخت دده دنکاح څخه خارجه سوه نواوس ددی عده چی دری حیضه دی تیر سویدی نودا ښځه په بل ځای کی نکاح کولی سی اوکه وغواړی نودمخکی خاوند سره هم نکاح کولی سی خودا ددی په خوښی ده اومجبوره دی نه سی ([3]). فقط

چی عیسایي ښځه مسلمانه سی نو دعیسایي خاوند سره دی ددی نکاح باقي پاته نه سی:

سوال: (۱۴۵۲) هنده عیسایي مذهب پریښوی اسلام یي قبول کی بکر ددی خاوند لاتر

([1]) وتجبر علی الاسلام وعلی تجدید النکاح زجرا لها بمهر یسیر کدینار وعلیه الفتوٰی (درمختار) فلکل قاض ان یجدوه بمهر یسیر ولو بدینار رضیت ام لا وتمنع من التزویج بغیره بعد اسلامها ولا یخفٰی انه محله ما اذا طلب الزوج ذالك (ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۴۰ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۴). ظفیر

([2]) من سب الشیخین اوطعن فیهما کفر ولا تقبل توبته وبه اخذ الدبوسی وابو اللیث وهو المختار للفتوٰی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۰۴، ط. س. ج۴ ص۲۳۲) وارتداد احدهما ای الزوجین فسخ عاجل بلاقضاء (ایضا باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹). ظفیر

([3]) ویجدد بینهما النکاح ان رضیت زوجة بالعود الیه والا فلا تجبر (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۱۴ ، ط. س. ج۴ ص۲۴۷). ظفیر

اوسه کافر پرعیسایي مذهب باندی دی اووايي چی زه اهل کتاب يم اوزما نکاح قائم ده ترڅو چی زه دیته طلاق ورنه کړم طلاق به نه وي واقع سوی، اوهندی ته دخلع داخیستو هم څه حق نسته؟

جواب: دبکر قول غلط دی دکتابی سړی نکاح دمسلمانی ښځی سره نه سی کیدی اونه پاته کیدی سی خوهنده په اسلام راوړو سره سمدستی دده دنکاح څخه جلانه ده بلکی په دری حیضو اوکه حائضه نه وی نودری میاشتی وروسته هنده به دبکر څخه بالکل جلا سی که په دری حیضو یادری میاشتو کی دننه خاوند مسلمان سو نوجدايي به نه وی ددری حیضو وغیره څخه وروسته هنده دوهمه نکاح دیومسلمان سره کولی سی ([1]).

چی دچا خاوند عیسایي سی نوهغه دبل چاسره نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۴۵۳) جما عیسایي سوه دده سره زما (سائل) دخور نکاح سوی وه دری کاله وسوه چی ده عیسایي مذهب اختیار کړیدی اوددوو کالو راهیسی يي پته نسته اوزما اوزما دخور مذهب سنی دی نودا خپله نکاح دیو سنی سړی سره کولی سی اوکه نه؟

جواب: دجما سره ددی نکاح فسخ سوه اوس مذکوره ښځه دیوسنی مسلمان سړی سره نکاح کولی سی. هکذا فی الدرالمختار ([2]). فقط

خاوند مرزايي سو نونکاح فسخ سوه اوکه نه؟ سوال: (۱۴۵۴) دزید نکاح دزینب سره وسوه دنکاح څخه وروسته زیدپه مرزايي عقائدو سو اوماسوا دمرزايانو څخه نورو مسلمانانو ته کافران وايي اوزید یاخو دپخوا څخه په مرزايي عقائدو وو خو دزینب سره دنکاح کولو په وجه مرزايي عقائد يي پټ ساتل اودنکاح څخه وروسته يي ښکاره کړل نوپه دواړو صورتونو کی دزید نکاح دزینب سره باقی پاته ده اوکه نه؟ اوزینب بی دطلاقو څخه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دواړو مذکوره صورتونو کی دزینب نکاح دزید سره فسخ سوه اوزینب که مدخوله ده نودعدی تیریدو څخه وروسته ددوهم سړی سره نکاح کولی سی اوکه مدخوله اوموطوءة نه ده نوبی دعدی دتیریدو څخه دبل سره نکاح نه سی کولی. کمافی الدرالمختار وارتداداحدهما فسخ عاجل بلا قضاء الخ وفي ردالمحتار قوله: وعليه نفقة

([1]) ولو أسلم أحدهما أي أحد المجوسيين أو امرأة الكتابي الخ لم تبن حتى تحيض ثلاثا أو تمضي ثلاثة أشهر قبل إسلام الآخر إقامة لشرط الفرقة مقام السبب (درمختار) قوله لم تبن إلخ أفاد بتوقف البينونة على الحيض أن الآخر لو أسلم قبل انقضائها فلا بينونة بحر فإذا مضت هذه المدة صار مضيها بمنزلة تفريق القاضي (ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص۵۳۲ – ۵۳۷، ط. س. ج۳ ص۱۹۱). ظفير

([2]) وارتداد احدهما اى الزوجين فسخ عاجل بلا قضاء (درمختار) اى بلا توقف على قضاء القاضي وكذا لاتوقف على مضى عدة فى المدخول بها (ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص۵۳۹، ط.س. ج۳ ص۱۹۳). ظفير

العدة ای لو مدخولاً بها او غیرها لا عدة علیها وافاد وجوب العدة سواء ارتد او ارتدت الخ شامی (۱) جلد ثانی ص۳۹۲. فقط

کونډه هنده ښځه که مسلمانه سی نوپر دی عده نسته: سوال: (۱۴۵۵) یوه کونډه ښځه ددوو کالو راهیسی کونډه ده اوهندوه ده نوکه دامسلمانه سی نوسمدستی دیو مسلمان سره نکاح وکړی نوصحیح ده اوکه نه؟

جواب: داهندوه کونډه ښځه که مسلمانه سی نوسمدستی نکاح کولی سی اوپه دی باندی عده داسلام واجب نه ده (۲). فقط

کافره ښځه چی دمسلمانیدو څخه وروسته عده تیره کړی او واده وکړی نوجائز دی: سوال: (۱۴۵۶) زید چی په قوم چمار غیر مسلم دی دده دښځی هنده دیو مسلمان سړی بکر سره ناجائز تعلق سو او تړډیری مودی پوری دده سره اوسیدله اوددی څخه وروسته هنده مسلمانه سوه اودبکر سره یې نکاح وکړه نوزید ته چی کله معلومه سوه نودبکر په عدم موجودګی کی یې هنده دده دکور څخه بوتله اوس بکردعویدار دی چی هنده زما منکوحه ده ماته دی راکول سی نوپه دی صورت کی هنده به شرعًا چاته ورکول کیږی؟

جواب: په درمختار کی دی: ولو أسلم أحدهما ثمة أي في دار الحرب وملحق بها كالبحر الملح لم تبن حتى تحيض ثلاثا أو تمضي ثلاثة أشهر قبل إسلام الآخر إقامة لشرط الفرقة مقام السبب (۳) الخ. ددی حاصل دادی چی دکافر ښځه مسلمانه سی اودری حیضونه وروسته اویا که پردی حیض نه راځی نو ددری میاشتو په تیریدو سره داښځه ددی کافر دنکاح څخه خارجیږی بیا هیڅ تعلق ددی کافر او ددی مسلمانی ښځی دزوجیت نه دی پاته نوزید چی کله په مذکوره مده کی اسلام رانه وړی نودده ښځه هنده دده دنکاح څخه ووتله اودبکر سره که یې نکاح دمذکوره مودی څخه وروسته سوی وی نونکاح صحیح سوه اوکه دښځی دمسلمانیدو سره یې سمدستی نکاح کړی وی نوبیا صحیح نه ده ددری حیضو دراتلو یا ددری میاشتو دتیریدو څخه وروسته بیا نکاح کیدل په کاردی. فقط

دکافر ښځه چی مسلمانه سی نودعدی څخه وروسته ددی سره نکاح کول په کار دی: سوال: (۱۴۵۷) هنده دکافر خاوند والا ده اودزید سره ددی محبت سو نوزید دامسلمانه کړه او هم دغه وخت یې ورسره نکاح وکړه نودا نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: په دی باره کی داحکم لیکل سویدی چی داسلام راوړوڅخه وروسته پرښځه ددری

(۱) ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۳. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۶ – ۵۳۷ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۱. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۶ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۱. ظفیر

حیضه پوره کولو څخه وروسته بیا ددی سره نکاح صحیح کیدی سی اوددی تفصیل په درمختاراوپه شامی کی دی حاصل داچی داسلام څخه وروسته چی سمدستی کمه نکاح ددی ښځی سره سویده نوهغه صحیح نه ده ([1]). فقط

کافري ښځي ته ددي خاوند په خپله طلاق ورکړيدي که اوس دا ښځه مسلمانه سي او سمدستي نکاح وکړي نوجائز ده: **سوال:** (١٤٥٨) یوه ښځه چی دهغې خاوند دپنځو شپږو کالو راهیسی دیته طلاق په خپله طریقه سره ورکړیدی نودی اوس دامسلمانیدل غواړی اودیوه مسلمان سره داپه نکاح کولو راضی ده نوآیا دادمسلمانیدو سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دمسلمانیدو سره سمدستی ددی نکاح کول صحیح دی. ([2]) فقط

دنوی مسلماني ښځي نکاح دي دعدي څخه وروسته وسي؟ **سوال:** (١٤٥٩) یوه ځوانه ښځه زموږ کره راغله اومسلمانه سوه اوددی خاوند مسلمان نه سو چی ددی شل ورځی وسوی دی ښځی ته دخاوند ډیر خواهش دی، ددی هروخت داتقاضا ده چی زما نکاح ډیره ژر وسی ځکه چی زما څخه برداشت نه سی کیدی که شرعًا جائزوی نو ددی نکاح وسی؟

جواب: په درمختار کی لیکلی دی چی داسی ښځه ددری حیضونو دتیریدو څخه وروسته نکاح کولی سی اوددی څخه مخکی به نکاح صحیح نه وی ځکه چی په عده کی په نکاح کولو سره نکاح باطلیږی نو دانکاح چی ددری حیضونو څخه مخکی وسوه نوباطله به وی ([3]). قال الله تعالىٰ ولاتعزموا عقدة النكاح حتىٰ يبلغ الكتاب اجله ([4]). ددی حکم خلاف شرع نه سی کیدی. فقط

خاوند مسلمان سو خو عیسایي ښځه مسلمانه نه سوه نوآیا خاوند ددی دمسلماني خور سره نکاح کولی سي؟ **سوال:** (١٤٦٠) دزید مذهب عیسایي وو اواوس مسلمان سو اودده ښځه فاطمة دده سره مسلمانه نه سوه بلکی داسلام دراوړو څخه یي انکار وکی، زید داسلام راوړو څخه وروسته دفاطمه دسکه خور سره نکاح وکړه چی دادمخکی څخه

([1]) ولو اسلم احدهما ای احد المجوسيين اوامراة الكتابى ثمه ای فی دار الحرب الخ لم تبن حتىٰ تحيض ثلاثا اوتمضى ثلاثة اشهر قبل اسلام الآخر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج٢ ص ٥٣٢ – ٥٣٧ ، ط.س. ج٣ ص ١٩١). ظفير

([2]) ددې وجه څخه چي دپنځو کالو راهیسي مطلقه ده ځکه نو پردې باندې عده نسته. ظفير

([3]) ولو اسلم احدهما ای احد المجوسيين اوامراة الكتابى ثمه ای فی دار الحرب الخ لم تبن حتىٰ تحيض ثلاثا اوتمضى ثلاثة اشهر قبل اسلام الآخر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج٢ ص ٥٣٢ – ٥٣٧ ، ط.س. ج٣ ص ١٩١). ظفير

([4]) سورة البقرة: ركوع ٣٠. ظفير

مسلمانه سوی وه نودا نکاح صحیح سوه اوکه نه؟ اودزید په اسلام راوړو سره دزید او دفاطمی نکاح ماته سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح دزید اودفاطمی قائمه ده په درمختار کی دی: ولواسلم الزوج وهی مجوسیة فتهودت اوتنصرت بقی نکاحها کما لوکانت فی الابتداء کذالك الخ (۱). اوپه شامی کی دی: اما اذا اسلم زوج الکتابیة فان النکاح (۲) یبقی الخ. اوچی کله دزید نکاح دفاطمی سره باقی ده نودزید نکاح دفاطمی دخور زینب سره صحیح اوجائزنه ده زید لره په کاردی چی زینبه سمدستی جلا کړی اوفاطمه په خپل زوجیت کی وساتی، ددوو خوندو په نکاح کی جمع کول حرام دی: کما قال الله تعالی وان تجمعوا بین الاختین (۳) الایه.

<u>چی ښځه مرتده سی اوبیا مسلمانه سی نوڅه حکم دی؟</u> سوال: (۱۴۲۱) یوه مسلمانه ښځه دخپل خاوند تکلیفونه نه سی برداشت کولی اودمجبوریت څخه عیسایی سوه چی دهغه یوکال تیرسو ددی خاوند تراوسه پوری مسلمان دی ده طلاق نه دی ورکړی اواوس دا ښځه مسلمانه سوه نودبل سړی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: اصل مسئله داده چی په ښځی اوخاوند کی دیوه په مرتد کیدو سره نکاح فوراً فسخ کیږی اوداسلام راوړلو څخه وروسته داښځه دبل مسلمان سره نکاح کولی سی خو که ښځه صرف دخاوند څخه دجلا کیدو په وجه مرتده سی اوکفر اختیار کړی نوپه دی کی فقهاء دالیکی چی په داسی حالت کی دی داښځه په جبر مسلمانه سی اوداول خاوند په نکاح کی دی ورکول (۴) سی (داهلته چی اول خاوند داغواړی خوکه دی خاموش وی اویایي صراحة پرې ایښی وی نوبیا داښځه دبل سړی سره نکاح کولی سی (۵) ظفیر).

<u>کافره چی مسلمانه سی اوواده وکړی نوجائز دی اوکه نه؟</u> سوال: (۱۴۲۲) زید دیوجارو کش دښځی سره اشنایي جوړه کړه بیاڅو ورځی وروسته رسوا سو خاندان تنبیه باندی

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۵ ، ط.س. ج۳ ص ۱۸۹. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۴ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۱. ظفیر

(۳) سورة النساء . ظفیر

(۴) وارتداد أحدهما أي الزوجین فسخ فلا ینقص عددا عاجل بلا قضاء الخ لو ارتدت لمجيء الفرقة الخ تجبر علی الإسلام وعلی تجدید النکاح زجرا لها بمهر یسیر کدینار وعلیه الفتوی وأفتی مشایخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجرا وتیسیرا (درمختار) فلکل قاض ان یجدده بمهر یسیر ولو بدینار رضیت ام لا وتمنع من التزوج بغیره بعد اسلامها (ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۴۰، ط. س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفیر

(۵) ولا یخفی ان محله ما اذا طلب الزوج ذلك اما لو سکت اوترکه صریحا فانها لاتجبر وتزوج من غیره لانه ترك حقه (ردالمحتار باب ایضا، ط.س. ج۳ ص۱۹۴). ظفیر

وکړه اوتوبه يي باندې وکښل اوبيا څو ورځی وروسته يي دده ښځه وتښتوله اوپه لس دولس ورځوکې يي مسلمانه کړه اوددې سره يي شرعی عقد وکې، نوداعقد دمسلمانيدو څخه وروسته جائز سو اوکه نه؟ اودی به بخښل کيږی اوکه نه؟ اوددې دواړو ايمان پاته دی اوکه نه؟ اوچې توبه وکاږی اوماته يي کړي اوبيايي وکړی نومقبول به وی اوکه نه؟

جواب: دامسلمانه سوه خو ددرې حيضو دتيريدو څخه مخکې ددې سره نکاح کول صحيح نه دی اوپه توبې سره گناه معاف کيږی اودبخښلو اميد سته اوپه کبيره گناه مثلاً زنا سره نه کافر کيږی اودتوبې ماتولو څخه وروسته چې بياتوبه وکاږی نوهم توبه قبليږی (۱). فقط

چې ښځه اوخاوند يوځای مسلمانان سی نو دتجديد دنکاح ضرورت نسته: **سوال**: (۱۴۲۳) که ښځه اوخاوند سره دبچيانو مسلمانان سی نودوی ته اوس په حالت داسلام کې دنوی نکاح ضرورت سته؟ اوکه همدغه به کافی وی؟

جواب: مسئله داده چې که ښځه اوخاوند دواړه مسلمانان سوه نوددوی دنکاح تازه کولو ته ضرورت نسته اوددوی مخکې نکاح باقی ده خوکه احتياطا وروسته داسلام څخه که بيا ددوی نکاح وسی نودابه ډيره ښه وی. اسلم المتزوجان بلاسماع شهود اوفی عدة کافر معتقدين ذالك اقرا عليه (۲). فقط

مسلمانان ښځه اوخاوند عيسايان سوه که بيا دواړه مسلمانان سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۴۲۴) ښځه اوخاوند دواړه عيسايان سوه، څو ورځی وروسته انجلی مسلمانه سوه بيا پنځه ورځی وروسته هلك هم مسلمان سو نو ددوی نکاح باقی پاته ده اوکه نه؟

جواب: ددوی نکاح باقی پاته نه ده بيا نکاح کيدل په کاردی په درمختار کې دی: وفسد ان سلم احدهما قبل الاخر (۳) الخ. فقط

کافره ښځه اوخاوند دواړه مسلمانان سوه نو دوباره نکاح کول ضروری دی اوکه نه؟ سوال: (۱۴۲۵) زيد اوهنده دواړه کافران وه خواوس مسلمانان سوه نواوس ددوی نکاح کيدل په کاردی اوکه نه؟

جواب: کافره ښځه اوخاوند چې دواړه مسلمانان سی نو ددوی نکاح به باقی وی. کذا فی

---

(۱) ولو اسلم احدهما ای احد المجوسيين اوامراة الکتابی الخ لم تبن حتی تحيض ثلاثا اوتمضی ثلاثة اشهر قبل اسلام الاخر اقامة لشرط الفرقة مقام السبب وليست بعدة لدخول غير المدخول بها (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۲ – ۵۳۷ ، ط.س. ج۳ ص۱۹۱). ظفير

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۲ ، ط. س. ج۳ ص۱۸۲. ظفير

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۴۱، ط. س. ج۳ ص۱۹۲، لان ردة احدهما منافية للنکاح ابتداء فکذا بقاء (ردالمحتار ايضا). ظفير

الدر المختار (۱)۔ فقط

په ښځه اوخاوند کې چې یوکافرسی نونوی نکاح به دښځې په رضاوی اوکه دخاوند؟ سوال:

(۱۴۲۶) که په ښځې او خاوند کې یوکافرسی نونوی نکاح به دښځې په رضاسره وی اوکه صرف دخاوند په خواهش؟ اودسابقه مهرځخه به علاوه نوی مهردښځې درضامندی مطابق وی اوکه نه؟

جواب: کافر کیدل دیوه دښځې اودخاوند داسبب دفسخ دنکاح دی بیاکه تجدید دنکاح وسی نودښځې په خوښه به وی اونوی مهر به هم دښځې دخواهش مطابق وی، (۲) اوکه دا صورت وی چې ښځه مرتده سوی وی چې کم موجب دفسخ دنکاح دی نوفقهاء لیکی چې ښځه دی مجبوره کړی داول خاوند سره په نکاح کولو په نوی مهر. کذافی الدر المختار واقره الشامی۔ (۳) فقط

غالی شیعه کافردی اوکه مسلمانان؟ سوال: (۱۴۲۷) چې کم غالی شیعه فرقه چې دحضرت عائشه ﷺ دافك قائل اوهم معتقد دی او دارکم ددی امرهم چې دنبی کریم ﷺ څخه وروسته اکثره اصحاب مرتد اوکافر سویدی العیاذ بالله نودا فرقه مرتده ده اوکه فاسقه اوکه کافره ؟

جواب: فرقه مذکوره چې دهغې دغه عقائد دی چې کم ذکر سوه په اتفاق داهل السنت والجماعت کافر اومرتد دی. کمافی ردالمحتار جلد ثالث باب المرتد ص۲۹۴ نعم لا شك في تكفير من قذف السيدة عائشة رضي الله تعالى عنها أو أنكر صحبة الصديق أو اعتقد الألوهية في علي أو أن جبريل غلط في الوحي أو نحو ذلك من الكفر الصريح المخالف للقرآن الخ (۴) شامی وفی المرقاة شرح المشکوٰۃ قلت وهذافي غيرحق الرافضة

---

(۱) والثانی ان کل نکاح حرم بین المسلمین لفقد شرطه کعدم شهود یجوز فی حقهم اذا اعتقدوه عند الامام ویقرون علیه بعد الاسلام الخ اسلم المتزوجان بلاسماع شهود الخ اقراء علیه (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۱ – ۵۳۲ ، ط. س. ج۴ ص۱۹۳). ظفیر

(۲) وارتداد احدهما فسخ فی الحال الخ ولو ارتد هو لا تجبر المراة علی التزوج (البحر الرائق باب نکاح الکافر ج۳ ص ۲۳۰. ۲۳۱. ط.س. ج۴ ص۱۹۳) ولا تجبر بکر بالغة علی النکاح ای لا ینفذ عقد الولی بغیر رضاها الخ انها حرة مخاطبة فلایکون للغیر علیها ولایة (ایضا باب الولی ج۳ ص ۱۱۸. ط.س. ج۳ ص ۵۸). ظفیر

(۳) فشمل ارتداد المراة الخ لکنها تجبر علی الاسلام والنکاح مع زوجها الأول لأن الجسم یحصل بهذا الخبر الخ ولا یخفی أن محله ما إذا طلب الأول ذلك أما إذا رضي بتزوجها من غیره فهو صحیح لأن الحق له وکذلك لو لم یطلب تجدید النکاح واستمر ساکتا لا یجدده القاضي (البحر الرائق باب نکاح الکافر ج۳ ص ۲۳۰. ط.س. ج۳ ص۲۱۴). ظفیر

(۴) ردالمحتار باب المرتد ص ۴۰۵ – ۴۰۶ ، ط. س. ج۴ ص۲۳۷. ظفیر

الخارجة في زماننا فإنهم يعتقدون كفر أكثر الصحابة فضلا عن سائر أهل السنة والجماعة فهم كفرة بالإجماع بلا نزاع [۱] اوپه مظاهرحق کی دی چی دشیعه ؤ اصحابو ته دکفر نسبت اودقذف دعائشه صدیقیه قائلیدل اعظم دموجباتو دکفردی چی دوی دا سبب درفع ددرجاتو گنی اوحال دادی چی صرف استحلال دمعصیت کفردی اودا لاڅه چی لاکفر شی موجب درفع ددرجات وگنی. انتهٰی، مظاهرِ حق

دشیعه دمنکوحه ښځی سره نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۱۴۶۸) ایا ددوی دمنکوحی ښځی سره بغیر دطلاقو څخه نکاح جائزده چی داهل السنت والجماعت عقیده لری؟

جواب: لوړ معلومه سوه چی مذکوره روافض مرتد اوکافر دی نودمسلمانی سنی ښځی نکاح ددوی سره صحیح نه ده اوددوی دښځوسره بغیر دطلاقه دسنیانو نکاح صحیح ده.

دشیعه سره دسنیه انجلۍ نکاح صحیح ده اوکه نه؟ سوال: (۱۴۶۹) دداسی فرقي په نکاح کی سنیانی انجونی راتلی سی اوکه نه؟

جواب: نه سی راتلی. فقط

چی کمه سنیه انجلۍ دشیعه ګانو په نکاح کی ده؟ سوال: (۱۴۷۰) دسنیانو چی کمی انجونی ددوی په نکاح کی دی په تقدیر دتکفیر به ددوی نکاح فسخ وی اوکه نه؟

جواب: چی کله ددی روافضو عقاید په وخت دنکاح کی هم داسی وه نودسنی مسلمانی ښځی سره ددوی نکاح نه ده منعقده نو دفسخ حاجت نسته. فقط

دشیعه انجلۍ سره نکاح؟ سوال: (۱۴۷۱) ددی فریقی دانجونو سره داهل السنة والجماعة نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: صحیح نه ده ځکه چی په مینځ دکافر اودمسلمان کی مناکحت صحیح نه دی.

ددوی په غم اوښادی کی شریک کیدل: سوال: (۱۴۷۲) اهل سنت والجماعت لره ددی فریقی په غم او ښادی کی شرکت صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دداسی فرقو په باره کی په حدیث پاك دی: ولا تجالسوهم ولا تناكحوهم. وغیره الفاظ راغلی دی نوددوی په غم اوښادی کی شریك کیدل جائزنه دی. فقط

دکافر ښځه مسلمانه سوه نو ددی دنکاح څه حکم دی؟ سوال: (۱۴۸۳) هنده کافره وه او اوس مسلمانه سوه اوددی خاوند هم کافر دی نو دهندی نکاح آیا دیومسلمان سره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په کتابونو دفقه کی یي ددی صورت په باره کی لیکلی دی چی دا مسلمانه ښځه

---

[۱] وګوری شامی باب المرتد ج۳ ص ۴۰۵ ، ط.س. ج۳ ص ۲۳۷. ظفیر

ددری حیضو یا دحیض دنه راتلو په صورت کي ددری میاشتو څخه وروسته دمخکنی خاوند څخه جلا کیږي، وروسته له دې څخه دې لره دوهمه نکاح کول صحیح کیدی سی ددری حیضو یا ددری میاشتو تیریدو څخه مخکی دی ښځی لره دوهمه نکاح نه ده صحیح. کذافی الدرالمختار ولو أسلم أحدهما أي أحد المجوسيين أو امرأة الكتابي الخ لم تبن حتى تحيض ثلاثا أو تمضي ثلاثة أشهر قبل إسلام الآخر إقامة لشرط الفرقة مقام السبب، قوله: اقامة شرط الفرقة وهو مضى هذه المدة مقام السبب وهو الاباء الخ (۱).

جومات ته بد ویونکی څنګه دی؟ سوال: (۱۴۷۴) که یوسړی دخپلی مالداری په نشه کی ووایي چی زه په جومات متیازی کوم اوامام ته ښکنځل وکړی دداسی سړی څه حکم دی اوچی کم سړی دده مددګار دی اودجومات لوټی خرابی کړی او ددوی سره طهارت وکړی نو ددوی دپاره څه حکم دی؟ اودا لوټی پاکی پاته دی اوکه نه؟

جواب: دداسی سړی دپاره په شریعت کی دکفر بیره ده اوتوبه دی وکاږی اونکاح دی تازه کړی اوچی کم خلګ ددی فاسق اوفاجر مددګار دی هغه هم عاصی اوفاسق دی توبه دی وکاږی اودبیا دپاره دی داسی حرکتونه نه کوی اودجومات لوټی دی خرابوی نه. اودا لوټی دی ناپاکه نه ګڼی ترڅو چی دپلیتی یقینی طور علم نه وی ترهغه وخته ددناپاکی حکم نه سی کیدی. فقط

دشریعت منکر مرتد دی اوکه نه؟ سوال: (۱۴۷۵) که یوسړی دشریعت څخه انکار وکړی او ووایي چی موږ شریعت نه منو داستاسی شرع داستاسی په کورکی کښېږده، نو آیا دا سړی مرتد سو اوکه نه؟ او دده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

(۲). په یوجومات کی دیو مولوی صاحب سره دڅه مسئلو تذکره کیدله چی ناګهانه یو سړی راغی اوپه طور دبغض دعالمانو ډیر په حقارت اوپه مسخره اوپه سپکه یي ردبد شروع کړل نو دداسی سړی څه حکم دی؟

جواب: اقول وبالله التوفيق: قال فی درالمختار وفی الخلاصة وغيرها إذاكان في المسألة وجوه توجب التكفير ووجه واحد يمنعه فعلى المفتي أن يميل إلى الوجه الذي يمنع التكفير الخ (۲) ص۲۸۵ باب المرتد وفيه عن جامع الفصولين: وعلى هذا ينبغي أن يكفر من شتم دين مسلم ولكن يمكن التأويل بأن مراده أخلاقه الرديئة ومعاملته القبيحة لا حقيقة دين الإسلام فينبغي أن لا يكفر حينئذ والله تعالى اعلم ص۱۸۹ ج۳ شامی، وقد سئل في الخيرية عمن قال له الحاكم ارض بالشرع فقال لا أقبل فأفتى مفت

(۱) وګوری ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۲ – ۵۳۷ ، ط.س. ج۳ ص۱۹۱. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب المرتد مطلب ما یشك فی انه ردة ج۳ ص۳۹۳ ، ط.س. ج۴ ص ۲۲۴. ظفیر

بأنه كفر وبانت زوجته فهل يثبت كفره بذلك ؟ فأجاب : بأنه لا ينبغي للعالم أن يبادر بتكفير أهل الإسلام إلى آخره (١). وفى الدرالمختار والفاظه وألفاظه تعرف في الفتاوى بل أفردت بالتآليف مع أنه لا يفتى بالكفر بشيء منها إلا فيما اتفق المشايخ عليه كما سيجيء قال في البحر وقد ألزمت نفسي أن لا أفتي بشيء منها (٢) الخ ونقل عبارته فى الشامى وفى اٰخره فعلى هذا فاكثر الفاظ التكفير المذكورة لايفتى بالتكفير فيها ولقد الزمت نفسى ان لا افتى بشيء (٣) منها آه كلام البحر باختصار شامى ص**۲۸۵**. فقط

دا ويل چې په رواج باندې فيصله وکړه نوڅنګه ده؟ سوال: (۱۴۷۶) وكيل دمدعى عليه مدعى ته وويل چې ته شرع محمدى منى اوكه نه؟ نومدعى وويل چې څنګه رواج دى ته هم داسى وكړه دلته دشرع څه كاردى؟ نوددى سړى په باره كى څه حكم دى؟

جواب: دمسلمان شرع محمدى نه منل اودا ويل چې ته درواج موافق وكړه دلته دشرع څه كاردى ډيره سخته ګناه ده چې په دى كى دكفر بيره ده اوددى كلمى څخه توبه كښل په كار دى اوتجديد دايمان كول په كاردى (۴). فقط

چې بى ارادې كلمه دكفر دژبى څخه اداء سى نوڅه حكم دى؟ سوال: (۱۴۷۷) ديوسړى دخولى څخه بى اختياره اوبى ارادى دخپلى ښځى په باره كى دالفظ ووتى چې داخو زما خداى دى العياذ بالله، نوآيا داسړى مرتكب دكفر سو اوكه نه؟ اونكاح قائمه ده اوكه نه؟

جواب: په شامى كى دى چې كه خطاءً بى ارادى كلمه دكفر پر ژبه راسى نونه كافر كيږى. ومن تكلم بها مخطئا اومكرهًا لايكفر عند الكل (۵) الخ. نوددى وجه څخه به په دى صورت كى پردى سړى حكم دكفر نه كيږى اودده ښځه دده دنكاح څخه ونه وتله خو احتياطاً دى تجديد دنكاح وكړى اوتوبه او استغفار دى وكړى. فقط

په آريا او عيسايي كيدو سره نكاح ختميږي اوكه نه؟ سوال: (۱۴۷۸) كه منكوحه مسلمانه ښځه دخپل خاوند دكوره ووزى اوعيسايي اريا سى نو ددى نكاح باقى ده اوكه نه؟

جواب: په ښځه اوخاوند كى ديوه په مرتد كيدو سره سمدستى نكاح فسخ كيږى كمافى الدرالمختار وارتداداحدهما فسخ عاجل (۶) نوچې كله يوه ښځه مسلمانه آريا ياعيسايي

---

(۱) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص ۳۹۹. ظفير

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص ۳۹۲ – ۳۹۳، ط.س. ج۴ ص۲۳۰ مطلب فى حكم من شتم دين مسلم. ظفير

(۳) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳، ط. س. ج۴ ص۲۲۴. ظفير

(۴) ردالمحتار باب المرتد تحت قوله والطوع ج۳ ص۳۹۴ ، ط.س. ج۴ ص۲۲۴. ظفير

(۵) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص**۵۳۹** ، ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفير

(۶) وتجبر على الاسلام وهو على تجديد النكاح زجرا بمهر يسير كدينار وعليه الفتوىٰ (درمختار) لكل قاض =

سی نوددی نکاح ددی دخاوند سره فوراً فسخ سوه نوکه دابیا اسلام راوړی نوتجدید دنکاح به ضروری وی اوفقهاء پردی فتوٰی ورکوی چی که ښځه مرتده سی نودابه مجبوراً مسلمانه سی اوداول خاوند سره به ددی په لږ څه مهر نکاح وسی. (۱) فقط

چی قرآنکریم او حدیث پاک ته چی څوک شیطان ووایي نودده څه حکم دی؟ سوال:

(۱۴۷۹) یومسلمان قرآنکریم اواحادیثو مبارکو باندی عمل کوی اوخلګو ته ددی بیان کوی اوخلګو ته ددی په عمل کولو ترغیب ورکوی نوداسی سړی ته یومسلمان شیطان وایی اوقرآنکریم اواحادیثو ته دشیطان کتاب وایي نو دداسی سړی په باره کی څه حکم دی؟

جواب: اول دا معلوموول په کاردی چی دغه سړی چی دکم په باره کی ویل سوی دی چی دی په قرآنکریم اوپه حدیثو مبارکو عمل کونکی دی، دامروج عامل بالحدیث یعنی غیر مقلد خونه دی، چی دقرآن کریم اوداحادیثو مبارکو پوهه اوتطبیق بین الاحادیث علم نه لری اودفقه اودکتابونو دفقه حنفی څخه انکار کوی اوددی خلاف کوی دداسی خلګو دا حال دی چی دعوٰی خو ددوی په قرآنکریم اوپه احادیثو پاکو باندی دعمل کولووی خوپه حقیقت کی دوی په قرآنکریم اوپه احادیثو پاکو باندی پوره عمل کوونکی نه دی چی دامامانو مجتهدینو خصوصاً دامام ابوحنیفه رحمه الله خلاف کوي، اوپر دوی طعن کوی، اوکه داعمل کوونکی په قرآنکریم اوپه احادیثو مبارکو حنفی دی موافق دفقه حنفی دی چی داعین موافق ده دقرآنکریم اوداحادیثو سره، په فقه حنفي عمل کوی اومقلد سني حنفی نوداسی عالم حنفی متبع دسنتو ته بدویل ډیر مذموم اوقبیح دی په هرحال قرآن کریم اواحادیثواوفقه ته شیطانی کتاب ویل العیاذبالله صریح کفر اوقبیح ارتداددی. (۲)

خدای اورسول ته چی څوک ښکنځل وکړی نو دهغه نکاح پاته سوه اوکه ختمه سوه؟ سوال:

(۱۴۸۰) یوسړی خپله ښځه ووهله ښځي خاوند ته وویل دخدای اودرسول دپاره مامه وهه په دی خاوند دخدای اودرسول په شان کی ډیر سخت ښکنځل وکړه نودی کافر سو او که نه؟ اودده ښځه دده دنکاح څخه ووته او که نه؟ دا دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

= ان یجدده بمهر یسیر ولو بدینار رضیت أم لا وتمنع من التزوج بغیره بعد إسلامها ولا یخفی أن محله ما إذا طلب الزوج (ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۴۰، ط.س. ج۳ ص۱۹۴). ظفیر

(۱) وبالجملة فقدضم إلی التصدیق بالقلب أو بالقلب واللسان في تحقیق الإیمان أمور الإخلال بها إخلال بالإیمان اتفاقا کترك السجود لصنم وقتل نبي والاستخفاف به وبالمصحف والکعبة وکذا مخالفة أو إنکار ما أجمع علیه بعد العلم به لأن ذلك دلیل علی أن التصدیق مفقود (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲، ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفیر

(۲) وکل مسلم ارتد فتوبته مقبولة الا الکافر بسبب بقی من الانبیاء فانه یقتل حدا ولا تقبل توبته مطلقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص ۴۰۰ ، ط.س. ج۴ ص ۲۳۱). ظفیر

او داولاد دپالنی حق چاته دی؟

جواب: په دی داسری کافر سو اودده ښځه دده دنکاح څخه ووته اوپه عده تیریدو سره دا دبل سړی سره نکاح کولی سی (۱) اوداولاد پالنه به همدا کوی (ان اخبرت بردة زوجها لها التزوج بآخر بعد العدة ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص**۵۴۱**). فقط

دقرآنکریم توهین باعث دارتداد دی اونکاح فسخ سوه: **سوال**: (۱۴۸۱) زید دخپلی لور نابالغی مریم نکاح دعمر سره وکړه عمر خالص بی علمه جاهل فاسق فاجر تارك الصلوة والصوم زانی دی اومریم ته تکلیف ورکوی اوځو واره یي دتلاوت په وخت قرآنکریم غورزولی دی، نوکه زید مریمه اوس بیا دعمر کره ولیږی نودمریم اراده دځان وژنی ده او عمر اراده دمریم دوژلو اویا دخرخولو لری نوشرعًا څه حکم دی؟

جواب: قرآنکریم په وجه دسپك ګڼلو غورزول کفر اوارتداد دی په داسی حالت کی دده ښځه مریمه دده دنکاح څخه ووتله نومریم دی دعمر کورته ونه لیږل سی، اودوهمه نکاح ددی وروسته دعدی څخه صحیح ده. (۲) فقط

حرامو لره حلال ګڼونکی مسلمان دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۸۲) دحرام فعل حلال ګڼونکی مسلمان پاته دی اوکه نه؟

جواب: په دی کی تفصیل دادی چی کم دشامی په باب المرتد کی ذکردی حاصل دادی چی هریوحرام حلال ګڼونکی اویا په عکس سره کافر نه دی بلکی په دی کی قیود دی چی په مذکوره کتاب کی منقول دی هلته یي هم په دغه باب کي وګوره (۳) (حاصل دادی چی کم شی په خپله حرام وی اودهغه حرمت په دلیل قطعی سره ثابت وی نو ددی حلال ګڼونکی کافر کیږی. ظفیر)

دخاوند دظلم دوجه څخه چی کمه ښځه قادیانی سی اوبیا مسلمانه سی نو ددی واده: **سوال**:

---

(۱) اجمع المسلمون ان شاتمه ﷺ کافر وحکمه القتل ومن شك فی عذابه وکفره کفر (ردالمحتار ایضا) وارتداد احدهما فسخ عاجل بلاقضاء فللموطوئة کل مهرها الخ وعلیه نفقة العدة والولد یتبع خیر الابوین دینا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص**۵۳۱**، ط.س. ج۳ ص۱۳۹). ظفیر

(۲) لأن الشارع جعل بعض المعاصي أمارة على عدم وجوده كالهزل المذكور وكما لوسجد لصنم أو وضع مصحفا في قاذورة فإنه يكفر (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط.س. ج۴ ص۲۲۲) ان ما یکون کفرا اتفاقا یبطل العمل والنکاح وما فیه خلاف ایضا ج۳ ص۳۹۹). ظفیر

(۳) والاصل ان من اعتقد الحرام حلالا فإن كان حراما لغيره كمال الغير لا يكفر وإن كان لعينه فإن كان دليله قطعيا كفر وإلا فلا وقيل التفصيل في العالم أما الجاهل فلا يفرق بين الحرام لعينه ولغيره وإنما الفرق في حقه أن ما كان قطعيا كفر به وإلا فلا فيكفر إذا قال الخمر ليس بحرام (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۳ مطلب في منكر الاجماع). ظفير

(۱۴۸۳) هنده ښځه دزید چی قادیانی مذهب یي اختیارکړیدی نوعالمانو حکم دارتداد باندی جاری کړیدی اوددی دنکاح دفسخ کولو حکم یي وکی اوس چی کله هنده دکفری عقائدو څخه تائبه ده دیته دنکاح دتازه کولو دپاره وویل سوه چی دهغه په جواب کی هندي وویل په وجه دناراضتیا خپل خاوند ماته نان اونفقه نه راکوله اونه یي طلاق راکوی نوما قادیانی مذهب اختیار کی نوددی وجه څخه که ما ددی سړی سره په نکاح کولو مجبوره کوی نوزه بیاهم دغه مذهب اختیاروم اودیوقادیانی سره به عقد وکړم نوپه دی صورت کی هنده دبل سړی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق، دارتداد څخه دبچ کولو دپاره په روایت دشامی: وظاهره ان لها التزوج بمن شاءت [۱]. باندی دی عمل وسی اودا مسئله چی کمه دمحتاله دپاره ده جبراً دی دامسلمانه کړی اوداول خاوندسره دی ددی تجدیددنکاح وسی، داپه دارالاسلام کی کیدی سی نه په دار الحرب کی کما هو ظاهر. فقط

قرآنکریم ته یي ښکنځل وکړه نونکاح فسخ سوه اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۸۴) یوسړی په مجمع عام کی په باره دقرآن شریف کی بغیر دارتفاع دموانع شرعیه وو څخه ښکنځل وکړل والعیاذ بالله نوآیا داسړی شرعا کافرسو اوکه نه؟ اوتجدید دنکاح اوتلقین وغیره شرعی امور هم ضروری دی اوکه نه؟

جواب: دده په ارتداد کی څه شبهه نسته تجدید داسلام اوتجدید دنکاح ده لره ضروری دی [۲]. فقط

دخدای او درسول دحکم څخه په انکار سره نکاح فسخ سوه اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۸۵) یوعالم زید دواده پرموقع دګډا اودسرود څخه منع کړی چی په شریعت کی لهو لعب سرود او سماع اونڅا (ګډا) وغیره حرام دی نوپه دی دزید یوعزیز په مجمع عام کی په لوړ اواز وویل چی موږ دخدای او درسول دحکم څخه بالکل منکر یو او نه یي منو، نودا سړی داسلام ددائرې څخه خارج دی اوکه نه؟ اودده نکاح باطله ده اوکه نه؟ مسلمانانو لره دده سره څه سلوك کول په کاردی؟

جواب: په دی صورت کی دغه سړی چی دامذکوره کلمه وویله نومرتدسو اوداسلام ددائری

---

(۱) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۲۰ ، ط.س. ج۴ ص ۲۵۳. ظفیر

(۲) اذا انکر الرجل آیة من القرآن الخ اوعاب کفر الخ رجل یقرا القرآن فقال رجل این چه بانك طوفان است فهذا کفر (عالمگیری مصری موجبات الکفر ج۲ ص۲۶۲) ما یکون کفر اتفاقا یبطل العمل والنکاح الخ یومر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۱۴، ط. س. ج۴ ص۲۴۲). ظفیر

ښځه ووتی (۱) اودده ښځه دده دنکاح څخه ووتله، تجدید داسلام او دنکاح پرده لازم دی اوکه دی توبه نه کاږی او دوباره اسلام نه قبلوی نومسلمانانو لره دده سره څه ګډون نه دی په کار اودی بالکل بېلول په کاردی. فقط

چې خاوند عیسایي سو نونکاح فسخ سوه دعدی څخه وروسته داواده کولی سی؟ سوال: (۱۴۸۶) زید یوازی عیسایي سو او دده ښځه اونور خاندان پراسلام پاته وو نودده ښځی لره شپږ کاله وروسته ددوهمی نکاح کولو دپاره دده څخه طلاق اخیستل ضروری دی اوکه نه؟

جواب: زید چی کله عیسایي سو اودده ښځه مسلمانه پاته سوه نونکاح دده سمدستی فسخ سوه اودعدی څخه وروسته دی لره نکاح کول جائز اوصحیح دی. کمافی الدر المختار وارتداد احدهما فسخ (۲) عاجلٌ . فقط

خاوند چی کله غالی شیعه سی نونکاح فسخ کیږی: سوال: (۱۴۸۷) دنابالغه هندی نکاح دبکر سره وسوه اوددی والدین دغه وخت سنی وه دهندی دبالغیدو څخه وروسته دوی رافضی سوه چی هروخت پراصحاب ثلثه، حضرت حفصه اوحضرت عائشة اوپر عشره مبشره ﷺ باندي لعن اوتبراکوی اوتراوسه پوری ددوی همدغه حالت دی، چی اعلانیةً اصحابو اوازواج مطهرات ته بدوایي، او امامت ترنبوت افضل ګڼی هنده اوس دوالدینو په کورکي ده نودهندی اودبکر نکاح قائمه اوجائزه ده اوکه نه؟

جواب: بکر چی کله رافضی غالی سو اودده رفض حد دکفرته ورسیدی نونکاح دهندی دده سره فسخ سوه. کمافی الدرالمختار وارتداد احدهما فسخ عاجل (۳) الخ وفي الشامي نعم لا شك في تكفير من قذف السيدة عائشة ﷺ او انكر صحبة الصديق ﷺ او اعتقد الالوهية في علي او ان جبرئيل غلط في الوحی او نحو ذلك من الكفر الصريح الخ . (۴) فقط

چماری مسلمانه سوه اوواده یي وکی اوبیا دهندو کورته بېول سوه اوس بیا مسلمانه ده نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۴۸۸) مخکی یوه چمیاری مسلمانه سوه اوخپله نکاح یي داهل

(۱) وارتداد احدهما فسخ عاجل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۳ ص۳۹، ط. س. ج۳ ص۱۹۳) ما یکون کفر اتفاقا یبطل العمد والنکاح الخ یومر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح (ایضا باب المرتد ج۲ ص۴۱۴. ط.س. ج۴ ص۲۴۲). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۳. ظفیر

(۳) ایضاً باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹ ، ط.س. ج۳ ص ۱۹۳. ظفیر

(۴) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص ۴۰۵ – ۴۰۲ ، ط.س. ج۴ ص ۲۳۷. ظفیر

اسلام سره وکړه اوشپړ میاشتی دده په کور کی اوسیدله اوبیا داچمیاری هندوانو په زور ونیوله ددی خاوندپه یوه مقدمه کی قید سوی وو، ترپنځو شپږو میاشتو پوری چمیاری دهندوانو په کورکي اوسیدله حلال اوحرام یي مباح ګڼل اوس بیا دوباره مسلمانه سوه نوآیا مخکی نکاح ددی فاسده سوه اوکه نه؟ اوددی چمیاری نکاح دبل سړی سره جائزده اوکه نه؟ اودمخکی خاوند څخه به طلاق اخیستل په کاروی اوکه نه؟

جواب: چی کم امور په سوال کی لیکل سویدی نو ددی څخه دچمیاری مرتد کیدل نه معلومیږی که په حقیقت کی داپر خپل اسلام قائمه وی اوعقیده یي داسلام وی که څه هم په عملونوکی شریکه دکافرانو وی نومرتده نه ده اوددی مخکنی نکاح قائمه ده ([1])، او بغیر دده دطلاق ورکولو څخه دادده دنکاح څخه نسی وتلی اودبل سره به یي نکاح جائزه نه ده اوکه دی خپله عقیده بدله کړی وی اوداسلام څخه منحرفه سوی وی او داسلام څخه یي انکار کړی وی نوپخوانی نکاح ددی فسخ سوه اوس په دوباره داسلام راوړلو سره وروسته دبل سړی سره نکاح کولی سی ([2]). فقط

<u>په کلمی دکفر سره نکاح فسخ کیږي</u>: **سوال**: (١۴٨٩١) دهندی نکاح دزید سره دشپږو کالو راهیسی سوی وه زید په دومره موده کی دهندی هیڅ قسم حق اداء نه کی نه پر مجامعات قدرت لری اونه نان اونفقه ورکوی بلکی دزید عادت دبچه بازی دی چی دهغه په وجه دمجامعت قدرت نه لری اودمور اوپلار په لمسون طلاق نه ورکوی دزیات تکلیف رسولو په وجه ډیر واره دهندی په ژبه کلمه دکفر هم جاری کیږی نوهنده په وجه دکلمی دکفر دنکاح څخه ازاده سوه اوکه نه؟ که نه ده آزاده سوی نوداسی صورت وښیاست چه هنده دزید څخه جلاسی؟

جواب: بغیر دخاوند دطلاقه بل هیڅ صورت نسته خوکه کلمه دکفر په ښځی اوخاوند کی دیو سړی دخولی څخه داسی ووتله چی په اتفاق سره کفر وی ([3]) نوددی سره نکاح فوراً فسخ کیږی خودفسخ دنکاح دپاره داضروری ده چی په دی کی دتاویل څه احتمال نه وی

([1]) لا يخرج الرجل من الإيمان إلا جحود ما أدخله فيه ثم تيقن أنه ردة يحكم بها وما يشك أنه ردة لا يحكم بها إذ الإسلام الثابت لا يزول بالشك الخ فينبغي للعالم إذا رفع إليه هذا أن لا يبادر بتكفير أهل الإسلام (ردالمحتار باب المرتد ج٣ ص٣٩٣، ط. س. ج۴ ص٢٢۴). ظفير

([2]) وارتداد احدهما ای الزوجين فسخ عاجل بلاقضاء (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج٢ ص٥٣٩ ، ط.س. ج٣ ص١٩٣). ظفير

([3]) الكفر شيء عظيم فلا أجعل المؤمن كافرا متى وجدت رواية أنه لا يكفر وفي الخلاصة وغيرها إذا كان في المسألة وجوه توجب التكفير ووجه واحد يمنعه فعلى المفتي أن يميل إلى الوجه الذي يمنع التكفير تحسينا للظن بالمسلم (ردالمحتار باب المرتد ج٣ ص٣٩٣، ط.س. ج۴ ص٢٢۴). ظفير

اومسئله داهم ده چی دخاوند څخه په زور که دطلاقو لفظ واخیستل سی نوبیا هم طلاق واقع کیږی. بقوله ﷺ ثلث جدهن جد وهزلهن جد الحدیث (۱). فقط

نهم باب

په ښځو کی عدل اوانصاف اوحقوق دزوجینو

په دوو ښځو کی مساوات: سوال: (۱۴۹۰۱) زما دوې ښځی دي زه دخپلی هری ښځی داوسیدو په کورکی په میاشت کی لس لس شپې اوسېدل غواړم چی په دې کي تخلیه هم په اسانتیا سره ممکنه ده، اوس په میاشت کی لس شپې نوری باقی دی په دی کي زه دخپلی نوی واده سوی ښځی دکور څخه دباندي اوسیدل غواړم خوبغیر دتعلق دتخلیه څخه که ددی نوبت وی نومساوی حقوق کیدل په کاردی اوکه نه په کم ځای کی چی لس شپې نور پروتل غواړم په دا انجلی اودوهمه ښځه کي داصفات نسته؟

جواب: ښځی که ډیری وی ټولی برابري دی اودټولو حق برابر دی باکره اوثیبه اومخکی او نوی ټولی برابري دی اومساوات په شپه تیرولو کی په کاردی اوجماع شرط نه ده او دالس شپې چی کمی باقی پاته دی یا خوداهم نیم په نیمه کول په کاردی اویا ددواړو سره دشپې مه اوسیږه په جلا کور کی اوسیږه (۲). فقط

آیا ددوو ښځو په کالو اوپه خرڅ کی هم مساوات ضروری دی حال دادی چی یوه بچیانو والاوی اوبله نه وی: سوال: (۱۴۹۱۱) که دزید ښځی وی نودواړو ته په کالو اوپه خرڅ کی زیاتی او کمی کول روا دی اوکه نه؟ حال دادی چی یوه بچیانو والا ده؟

جواب: ددواړو ښځو په خرڅ او خوراك کی مساوات وکړه کمی او زیاتی مه کوه (۳)، خو چی کم دبچیانو والا ده دهغه دبچیانو خرڅ جلا ورکړه. فقط

عمر غواړی چی په سفرکی شپږ میاشتی دواړی ښځی دځان سره وساتی پچه (هسکه) نه اچوی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۴۹۲۱) دعمر کارو بار په غاړه دی اودده دوی ښځی دی چی شپږ میاشتی یوه ښځه دځان سره ساتی اوشپږ میاشتی بله، عمر داسی ښځه په سفر

---

(۱) مشکوٰۃ باب الخلع والطلاق فصل ثانی۲۸۴، دجد څخه وروسته دا الفاظ ذکر دی: النکاح والطلاق والرجعة (رواه الترمذی وابوداود، ایضا). ظفیر

(۲) یجب وظاهر الآیة انه فرض نهر ان یعدل ای ان لایجوزفیه ای فی القسم بالتسویة فی البیتوته وفی الملبوس والماکول والصحبة لا في المجامعة الخ والبکر والثیب والجدیدة والقدیمة والمسلمة والکتابیة سواء لاطلاق الآیة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب القسم ج۲ ص۵۴۲، ۵۴۷ ط.س. ج۳ ص۲۰۱، ۲۰۲). ظفیر

(۳) یجب وظاهر الآیة انه فرض نهر ان یعدل ای ان لایجوز فیه ای فی القسم بالتسویة فی البیتوته وفی الملبوس والماکول والصحبة الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب القسم ج۲ ص۵۴۲ – ۵۴۷، ط.س. ج۳ ص۲۰۱ – ۲۰۲). ظفیر

کی دځان سره ساتل غواړی چی دهغې خرڅ کم وی اوپچه نه اچوی داځنګه دی؟

جواب: عمر ته اختیار دی چی کمه ښځه غواړی نو دځان سره دی وساتی اوپچه نسته خو ښه اومستحب ده اوکه قرعه ونه کړی نوګنهګار نه دی. کمامر فی الدرالمختار ولاقسم فی السفر دفعا للحرج فله السفر بمن شاء والقرعة احب تطییبا لقلوبهن الخ (١). فقط

آیا په خرڅ تحفه اوهدیه کی هم دښځو په مینځ کی په مساوات نه کولو سره خاوند ګنهګار دی؟ **سوال**: (۱۴۹۳) دیوسړی دوی ښځی دی اوپه دوی کی برابری اومساوات نه کوی دوهمی ښځی ته خرچه کمه ورکوی اودسفر وغیره څخه چی څه تحفه راوړی نودوهمی ښځی ته یي نه ورکوی اووایي چی ما فتوٰی راغوښتی ده چی په تحفه اوپه هدیه کی مساوات ضروری نه دی، که په دی کي دوهمی ښځی ته څه ورکوم نودا زما خوښی ده، آیا داطرز عمل صحیح دی اوکه نه؟ اوداسړی ګنهګار کیږی اوکه نه؟

جواب: عدل کول په مابین ددوو ښځو کی ضروری دی اوپرېښوونکی ددی عاصی اوآثم دی اوتارك دفرض دی اوفاسق دی: قال الله تعالٰی فان خفتم ان لاتعدلوا فواحدة (٢) الاية وفی الدرالمختار یجب وظاهر الاٰیة انه فرض ان یعدل ای ان لایجوز فیه ای فی القسم بالتسویة فی البیتوتة وفی الملبوس والماکول (٣) الخ. نومعلومه سوه چی ددواړو ښځو په مینځ کی په هره یوه کی باید په خوراك اوجامه اوپه یوځای اوسیدو کی مساوات وکړی په حدیث پاك کي دی چی دچا دوی ښځی وی اودی په دوی کی عدل اومساوات نه کوی نودقیامت په ورځ به په داسی حال کی راسی چی دده به یواړخ نه وی. وعن ابی هریرة ﷺ عن النبی ﷺ قال اذا کانت عند الرجل امراتان فلم یعدل بینهما جاء یوم القیٰمة وشقه ساقط. رواه الترمذی (۴) وغیره. فقط

مجامعت هره میاشت ضروری دی اوکه نه؟ اودنفقی څخه بی پروایی کول څنګه دی؟ : **سوال**: (۱۴۹۴) دښځی دجامی اودخرچی خبر نه اخیستل څنګه دی؟ اودسفر او دمجبوری وغیره په وجه کوروالی نه کیږی نوڅنګه دی؟ داچی کم مشهوره دی چی په هره میاشت کی په کوروالی نه کولو باندی دیوه قتل ګنهګار کیږی داصحیح ده اوکه نه؟

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب القسم ج۲ ص ۵۵۱ ، ط.س. ج۳ ص ۲۰۲. ظفیر

(٢) سورة النساء رکوع ۱. ظفیر

(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب القسم ج۲ ص ۵۴۲ – ۵۴۷، ط. س. ج۳ ص۲۰۱. مشکوٰة باب القسم فصل ثانی ص۲۷۹، ظفیر

(۴) فتجب (النفقة) للزوجة بنکاح صحیح الخ علی زوجها لانها جزاء الاحتباس الخ ولو صغیر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۲ ، ط.س. ج۲ ص۵۷۲). ظفیر

جواب: دښځی دنان او نفقې خبر نه اخيستل گناه ده بيا خبر ساتل په کاردی په حالت دسفر اومجبوری کی دنه کوروالی په وجه په خاوند هيڅ گناه نسته اودا غلطه ده چی په ترك دوطی سره په هری مياشت کی ديوه قتل گناهگاريږی دابالکل غلط اوباطل (۱) دی.

دوهلو او دټکولو په وجه ښځه دخاوند کره نه ځی نوڅه بايد وسی؟ **سوال**: (۱۴۹۵) زيد خپلی ښځی ته په مهر کی څه رقم اويوکور ورکړيدی اوديوکال څخه وروسته يي ځينی مذکوره اشياء په وهلو اوټکولو واخيستل اودايي دکور څخه وايستله چی تر يوکاله دا دمور کره اوسيدله، اوس زيد دابيول غواړی اوښځه دوهلو اوټکولو دوجه څخه انکاری ده، نوخاوند دا بېولی سی اوکه نه؟

جواب: که دزيد ښځی ته دخاوند کورته دتللو څخه بيره وی نودا دی هلته په تللو مجبوره نه سی. فقط

په سفر کی دښځو په مينځ کی عدل اوحقوق دزوجيت په نه اداء کولو گنهگار دی اوکه نه؟

سوال: (۱۴۹۶) زيد اول په خپل اصلی وطن کی دهندی نومي ښځی سره نکاح وکړه او هلته مستقل اوسيږی اودوطن دښځی طرف ته دده بالکل مينه نسته خونان اونفقه ادا کوی په داسی حالت کی چی په کلونو کی خپلی ښځی ته مخ نه را اړوی نوگنهگار به وی اوکه نه؟ اوهنده داخواهش هم لری چی که زيد داخپل ځان ته وبولی نوسمدستی به ورولاړه سی خوزيد ددی په بللوکی څه شوق نه لری چی که راوی بولم نوعدل به ونه سی نوکه زيد هنده هم هغه ښارته چی په دی کی دی مستقل اوسيږی را وبولی اوماسوا دنان اونفقی څخه اومکان ورکولو څخه علاوه بل څه تعلق ونه ساتی نوپه داسی حالت کی به دی گنهگار وی اوکه نه؟ اوحال دادی چی ده دهندی دمواخذی نه کولو اقرار اووعده اخيستی وی او يايې اوس واخلی که زيد هنده سره ددی دخواهشه خپل ځان ته را ونه بولی نوپه دی فعل سره به دی گنهگار وی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار: ولو أقام عند واحدة شهرا في غير سفر الخ قوله في غير سفر أما إذا سافر بإحداهما ليس للأخرى أن تطلب منه أن يسكن عندها مثل التي سافر بها وعن الهندية شامی ص ۴۰۰ جلد ثانی ثم قال فی الدر المختار: ولا قسم فی السفر

---

(۱) لا في المجامعة كالمحبة بل يستحب ويسقط حقها بمرة ويجب ديانة أحيانا ولا يبلغ مدة الإيلاء إلا برضاها ويؤمر المعتبد بصحبتها أحيانا وقدره الطحاوي بيوم وليلة من كل أربع لحرة وسبع لأمة ولو تضررت من كثرة جماعه لم تجز الزيادة على قدر طاقتها (درمختار) قال فی الفتح واعلم أن ترك جماعها مطلقا لا يحل له صرح أصحابنا بأن جماعها أحيانا واجب ديانة لكن لا يدخل تحت القضاء والإلزام إلا الوطأة الأولی ولم يقدروا فيه مدة ويجب أن لا يبلغ به مدة الإيلاء إلا برضاها وطيب نفسها به (ردالمحتار باب القسم ج۲ ص۵۴۷، ۵۴۸، ط. س. ج۳ ص۲۰۲). ظفير

دفعا للحرج الخ قال فی الشامی لانه لا ییسر الا بحملهن معه وفی الزامه ذلك من الضرر ما لا یخفی (۱) الخ. فقط

ددی عبارتونو څخه معلومه سوه چی په سفرکی کمه ښځه دځان سره غواړی ساتلی سی په دی به خاوند ماخوذنه وی خوکه داصلی وطن ښځه خپل ځان ته رابولی نوبیا عدل پرده لازم دی خوکه هنده خپل حق ساقط کړی اودویمی ښځی ته ئی ورکړی نوبیا دځان سره په ساتلوکی به هم په عدل نه کولو زید گنهگارنه وی (قال فی الدرالمختار ولوترکت قسمها ای نوبتها لضرتها صح الخ) (۲) اودعبارت دشامی (لانه لا یسیر الخ) څخه هم دا واضحه ده چی پرزید هنده خپل ځان ته رابلل لازم نه دی اوپه نه رابللو به دی گنهگارنه وی (چی کله خاوندپه بل ښارکی مستقل قیام اختیارکی اوهلته یی اوسیدل داسی اختیار کړل چی وطن اصلی ته دراتلو نوم هم کله نه اخلی نوبیا دادسفر په حکم کی څنگه دی؟ داخو دوطنِ اصلی په حکم کی دی اوفقهاء دسفر په سلسله کی لیکی: لاقسم فی السفر دفعا للحرج فله السفر بمن شاء منهن والقرعة احب تطییبا لقلوبهن (درمختار) دارکم په شامی کی لیکی: لانه لیتیسر الابحملهن معه وفی الزامه ذالك من الضرر ما لایخفیٰ ولانه قد یثق باحدهما فی السفر وبالاخریٰ فی الحضر والقرار فی المنزل (ج۲ ص۵۵۱) ددی عبارت څخه هم معلومیږی چی داسفر مراد دی چی دمیاشتی دپنځلسو ورځو دپاره وی اودوهمه بالکل پریښوول سوی نه وی.

بل ددوهمی ښځی چی کم حقوق دی نو ددی ادا کول هم ضروری دی دکالمعلقة ساتل ظلم دی اومجامعت کله کله دیانةً واجب دی. وتجب دیانةً احیانا لایبلغ مدة الایلاء الا برضاها ویؤمر المتعبد لصحبتها احیانا وقدره الطحاوی بیوم ولیلة من کل اربع (در مختار) قال فی الفتح واعلم ان ترك جماعها مطلقا لایحل له صرح اصحابنا بان جماعها احیانا واجب دیانة (ردالمحتار باب القسم ج۲ ص۵۴۷). والله اعلم، ظفیر

دخاوند اطاعت ضروری دی اوکه دمور اوپلار؟ سوال: (۱۴۹۷) پر ښځی باندی دخاوند تابعداری زیاته ضروري ده اوکه دمور اوپلار (۳) ؟

(۲) چی کمه ښځه دخاوند څخه نفرت ساتی دهغې څه حکم دی؟

جواب: ۱\. دخاوند اطاعت اوتابعداری دښځی دپاره زیاته ضروری ده اومقدمه ده دنور قریبانو (۴) څخه. فقط

---

(۱) ردالمحتار باب القسم ج۲ ص۵۵۱، ط.س. ج۳ ص ۲۰۵. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب القسم ج۲ ص۵۵۱، ط.س. ج۳ ص۲۰۲. ظفیر

(۳) و(۴) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لوکنت امر احد ان یسجد لاحد لامرت المراة ان تسجد =

۲۱. داسې ښځه عاصي اوګنهګاره ده [۱].

که ښځه خاوند دپلار دکور څخه بنده کړي اوښځه ولاړه سي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۴۹۸) که يوسړی خپلې ښځې ته داحکم وکې چې ته دمور اوپلار کره بالکل مه ځه او ددی سړي پلار راسی اودا سمدلاسه روانه کړی اوبوزي يې نوپه دې سره پرنکاح څه اثر پريوتی؟ اوخاوند لره په دی څه کول په کاردی؟

جواب: په دی سره پر نکاح هيڅ اثر رانغی يعنی نقصان ونه سو، خوښځې لره دخاوند دحکم څخه خلاف داسې کول نه وو په کار اوس خاوند ته دعلم څخه وروسته پر ښځې سختې نه دی کول په کار که څه بيره اوشك خسرګنۍ ته په تلو کې نه وی، اوکه وي نو دبيا دپاره دی بنده کړی اوچې څه دده پلار کړی دی چې دايي دپلار دکور څخه راوسته نوپه دې دي څه مواخذه ونه کړی [۲]. فقط

چې کله ښځه ددی مور اوپلار نه پريږدی نوخاوند څه وکړی؟ سوال: (۱۴۹۹) ديونيم کال څخه زياته موده وسوه چې زما داخښې دزخمې کيدو اطلاع راورسيده چې په دې وجه ما ښځه هلته بوتله، زما خسرګنې په بهانه دصحت دا وګرځوله او اوس يې بالکل نه راليږی څو واره زه په خپله اويووار زما مور اوپلار دراوستلو دپاره تللی دی خو بيايي هم را ونه ليږله نوپه دی صورت کې شرعی فتوىٰ څه ده؟

جواب: بی دکمې وجه څخه لور دخاوند کره نه ليږل دمور اودپلار هيڅ حق نه دی اومور اوپلار دلور په راګرځولو ګنهګار دی، اوپر دوی لازم دی چې ددی څخه توبه وکاږی او انجلۍ خاوند ته وليږی اوپر ښځې لازم دی چې په دی باره کې دمور اودپلار اطاعت ونه کړی اودخاوند اطاعت وکړی ځکه چې په دی باره کې دخاوند اطاعت کول ښځې لره مقدم کول په کاردی [۳]. فقط

= لزوجها رواه الترمذي (مشكوٰة باب عشرة النساء ص۲۸۱) ولا يمنعها من الخروج الى الوالدين في كل جمعة ان لم يقدرا على اتيانها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب النفقة ج۳ ص۹۱۴، ط.س. ج۳ ص۲۰۲). ظ

(۱) قيل لرسول الله ﷺ اى النساء خير قال التي تسره اذا نظر وتطيعه اذا امر ولا تخالفه في نفسها ولا مالها بما يكره، رواه النسايي (مشكوٰة باب عشرة النساء ص ۲۸۳). ظفير

(۲) لايمنعها من الخروج الى الوالدين وقيل يمنع ولايمنعها من الدخول اليها في كل جمعة وغيرهم من الاقارب في كل سنة هوالمختار اه وعن ابي يوسف في النوادر تفيد خروجها بان لايقدر على اتيانها فان قدر لا تذهب وهوحسن (ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۱۴ ، ۹۱۵، ط.س. ج۳ ص ۲۰۲ ، ۲۰۳). ظفير

(۳) الرجال قوامون على النساء بما فضل الله بعضهم على بعض وبما أنفقوا من أموالهم فالصالحات قانتات حافظات للغيب بما حفظ الله واللاتي تخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن في المضاجع واضربوهن فإن أطعنكم فلا تبغوا عليهن سبيلا (سورة النساء ركوع۲) قالوا للزوج ان يسكنها حيث احب ولكن بين جيران صالحين =

ښځه چې دخاوند خبره هیڅکله ونه مني نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۵۰۰) ښځه دخاوند دمرضی خلاف کوی او دده په وینا عمل نه کوی نوددی دپاره شرعا څه حکم دی؟

جواب: دښځی پر ذمه دخپل خاوند اطاعت په دی امورو کی چې کم شرعا ممنوع نه وی نو ضروری اولازم دی نوکه دا دخپل خاوند اطاعت نه کوی نوګنهګاره به وی که څه هم دوالدینو اطاعت ضروری دی خوپر ښځی حق دخاوند زیات ([1]) دی. فقط

مور اوپلار چې کله لور رخصت نه کړی او دانه ځی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۵۰۱) دښځی مور اوپلار که ښځه دخاوند کره نه لیږی نو ددی دپاره څه حکم دی؟ ښځه دخپل مور او پلار په لمسون خاوند ته نه ورځی نوڅه حکم دی؟

جواب: مور اوپلار لره داجائز نه دی چې بی دڅه بیری دوی خپله لور دخاوند کره نه لیږی خوکه څه بیره وی نوبیایي راګرځولی سی. فقط

ښځه دمور اوپلار او دخاوند په مینځ کی دی جګړه نه راولی: سوال: (۱۵۲) خاوند که څه خبره په طور دګپي خپلی ښځی ته ووایي اوښځه خپل مور اوپلار ته شکایت وکړی چې دهغه په سبب ددی مور اوپلار پر جګړه اوپه فساد اماده وی نوددی دپاره شرعا څه حکم دی؟ ښځه هره یوه خبره دخاوند مور اوپلار ته وایي چې دهغه په سبب خفګان پیداکیږی نو ددی دپاره څه حکم دی؟

جواب: دجنګ څخه په هرحال خلاصیدل په کاردی یعنی ښځی لره داسی خبره نه دی کول په کار چې په هغی سره ددی دخاوند اودمور اوپلار جنګ پیدا کیږی. فقط

دخاوند داجازی څخه بغیر دښځی یوځای تلل څنګه دی؟ سوال: (۱۵۰۳) ښځه دخاوند داجازی څخه بغیر دیوقریب کره یا دمور اودپلار کره یا تماشی ته ولاړه نوددی دپاره شرعا څه حکم دی؟

جواب: ښځی لره بی داجازی څخه دخاوند دمور اوپلار کره یا دیو بل خپل قریب کره تلل نه دی صحیح اوسړی ته هم دمطلق بندولو حکم نسته بلکی کله کله دقریبانو سره په قدر دمرتبو لیدل په کاردی ([2]). فقط

= (رد المحتار باب النفقة ج۲ ص۹۱۴، ط. س. ج۳ ص ۲۰۲). ظفير

[1] ليس لها ان تخرج بلا اذنه اصلا (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۴، ط.س. ج۳ ص۱۴۲). ظفير

[2] لا يمنعها من الخروج إلى الوالدين في كل جمعة إن لم يقدرا على إتيانها على ما اختاره في الاختيار ولو أبوها زمنا مثلا فاحتاجها فعليها تعاهده ولو كافرا وإن أبى الزوج ولا يمنعها من الدخول عليها في كل جمعة وفي غيرهما من المحارم في كل سنة ويمنعهم من الكينونة وفي نسخة من البيتوتة ومن القرار عندها به يفتى ويمنعها من زيارة الأجانب وعيادتهم والوليمة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص ۵۱۴، ۵۱۵ ، ط. س. ج۳ ص ۲۰۲ ۲۰۳). ظفير

چې خاوند پرېږدي اوپلار ته ورسي نوځنګه ده؟ سوال: (۱۵۰۴) ښځه دخپل خاوند سره پرته وی دخاوند په بیده کیدو پورته سی اودپلار سره پرېوزی اولاس اوپښې ورچاپې کړی اوپلار دادخپل ځان څخه جلا نه کړی اوخاوند ته يي نه لیږی چې ددی څخه خاوند ته بدګمانی پیداسی نوددی دپاره شرعًا څه حکم دی؟

جواب: دپلار په باره کی داسی ګمان نه دی کول په کار (خوپلار لره هم دداسی عمل څخه ځان ساتل لازم دی چې دهغه څخه خاوند ته بدګمانی اوتکلیف وی ([1]). ظفیر)

دښځی دخاوند سره خوراک کول جائزدي: **سوال**: (۱۵۰۵) دانجلۍ مور اوپلار انجلۍ دخاوند سره خوراك ته نه پرېږدی نوددی شرعا څه حکم دی؟

جواب: خاوند لره خوراك دښځی سره شرعًا صحیح دی دښځی مور اوپلار لره ددی څخه بندول نه دی پکار. فقط

ښځه دخاوند داجازته بغیر دباندی تلی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۵۰۶) یوه ښځه هنده چې دهغې خاوند یوځای دباندی تللی دی، آیا دابې اجازته دخاوند څخه دباندی تلی سی او که نه؟ که تلی سی نوپه کم کم صورتونو کی تللی سی؟

جواب: هنده مذکوره دخپلو ضرورتونو اودمور اودپلار دلیدو دپاره اودنورو قریبانو محارمو دلیدو دپاره اوحج که فرض وی اومحرم ورسره تلونکی هم موجود وی نودباندی تلل يې صحیح دی. کما فی الدرالمختار فلا یخرج الا لحق لها اوعلیها اوزیارة ابویها کل جمعة اوالمحارم کل سنة اولکونها قابلة اوغاسلة وفی الشامی وکذا فیما لو ارادت حج الفرض بمحرم وکان ابوها زمنا مثلا لایحتاج الی خدمتها الخ اوکانت لها نازلة الخ ولم یسال لها الزوج عنها من عالم فتخرج بلا اذنه فی ذالك کله ([2]). غرض داچی ددینی او دنیوی ضرورتونو دپاره ددی دباندی وتل صحیح دی. فقط

دښځی وهل او ټکول بد دي: **سوال**: (۱۵۰۷) یوسړی خپلی منکوحی ته ډیر تکلیفونه او وهل ورکول اودا ښځه دخپل حفاظت په غرض دخاوند داجازی څخه بغیر دمور اوپلار کره ولاړه اوددی والدینو ددی دراليږلو څخه انکار وکی، نودا ښځه یاددی مور اوپلار خطاء کاردی اوکه نه؟

([1]) ویمنعهم من الکینونة وفي نسخة من البیتوتة (درمختار) قوله: یمنعهم، الظاهر أن الضمیر عائد إلی الأبوین والمحارم قوله وفي نسخة من البیتوتة إلخ ویؤیده ما مر من التعلیل بأن الفتنة في المکث وطول الکلام (ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص ۹۱۵ ، ط.س. ج۳ ص ۲۰۳). ظفیر

([2]) وګوری ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۴ ، ط. س. ج۳ ص ۱۴۵. ظفیر

جواب: په دی صورت کی شرعا خطاکار اوګنهګار خاوند دی چی دی بی سببه ښځه وهی اوټکوی اوناحقه سزا ورکوی په داسی حالت کی دښځی دخپل مور اوپلار کره تلل او اوسیدل نافرمانی اوبد اخلاقی نه ده ځکه چی داتلل دښځی په ناحقه نه دی بلکی په حقه دی ([1]). فقط

ښځی ته نصیحت کول اوددی دپاره بد دعا کول او ډوډی اوجامه پربندول څنګه دی؟ سوال: (۱۵۰۸) دزید ښځه که سره دنصیحت کولو اودپوهولو خبره ونه منی اودخپلو حرکتونو څخه بنده نه سی نوزید لره داجائز دی چی دشپی ورسره پرېوتل پرېږدی اویا ډوډی جامه نه ورکوی اودا ښرا ورته وکړی چی ای الله یاخو دانیکه کړه اویایي پورته کړی نودا جائز ده اوکه نه؟

جواب: پوهول اونصیحت کول خوصحیح دی خوپه نه منلو دشپی پروته پرېښوول یاجامه نه ورکول یاکمول صحیح نه دی اوپه دعاګانو کی صرف پر دی اکتفاء وکړه چی الله ﷻ دیته هدایت وکړی اونیکه یي کړی اودمرګ سوال مه کوه ([2]). فقط

دخواښی او دمرور نه سره لګیری نو دواړه جلا ساتل څنګه دی؟ سوال: (۱۵۰۹) دزید دښځی اودمور سخته دښمنی ده مرور دخواښی اوخواښی دمرور دښمنه ده ښځه دزید جلا اوسیدل خوښوی زید په کم صورت جلا اوسیدل شروع کړی چی دوالدینو حقوق هم ادا کړی؟

جواب: زید لره په دی حالت کی دا پکاردی چی دښځی سره جلا اوسیږی اودمور او دپلار خدمت اوتابعداری کوی اوچی څه ددوی حق دی اداء کړی چی په دارینو کی فلاح پیدا کړی ([3]). فقط

([1]) ولو قالت إنه يضربني ويؤذيني فمره أن يسكنني بين قوم صالحين فإن علم القاضي ذلك زجره ومنعه عن التعدي في حقها وإلا يسأل الجيران عن صنيعه فإن صدقوها منعه عن التعدي في حقها ولا يتركها ثمة (رد المحتار باب النفقة ج۲ ص۹۱۴، ط.س. ج۳ ص ۲۰۲). ظفير

(۲) والتی تخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن فی المضاجع واضربوهن فان اطعنكم فلاتبغوا عليهن سبيلا (سورة النساء) ددی څخه معلومه سوه چی شپه تیرول پرېښوول جائزدی په همدی کورکی خودښځی سره به یوځای نه وی. ظ

([3]) وتجب لها السكنى في بيت خال عن أهله الخ واهلها الخ وبيت منفرد من دار له غلق زاد في الاختيار والعيني ومرافق ومراده لزوم كنيف ومطبخ وينبغي الإفتاء به كفاها لحصول المقصود الخ يشترط أن لا يكون في الدار أحد من رحماء الزوج يؤذيها (درمختار) في البدائع ولو أراد أن يسكنها مع ضرتها أو مع أحمائها كأمه وأخته وبنته فأبت فعليه أن يسكنها في منزل منفرد لأن إباءها دليل الأذى والضرر الخ وذكر الخصاف أن لها أن تقول لا أسكن مع والديك وأقربائك في الدار فأفرد لي دارا قال صاحب الملتقط هذه الرواية محمولة على الموسرة الشريفة وما ذكرنا أن إفراد بيت في الدار كاف إنما هو في المرأة الوسط (ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۱۲ – ۹۱۳، ط. س. ج۳ ص ۵۹۹ – ۶۰۰). ظفير

دوالدينو په ويلو په حقوقو دخاوند كې يايه حقوقو دباري تعالىٰ كې كوتاهي كول صحيح دي اوكه نه؟ **سوال**: (۱۵۱۰) كه والدين انجلۍ دكور والى څخه بنده كړى اودا دشهوت دوجه څخه بنده نه سى خو دوالدينو دبيرى غسل ونه كړى چى دهغه په وجه اكثره لمونځونه قضاء سى نودا ښځه به گنهگاره وى اوكه ددى مور اوپلار اوپه دى بيره او لحاظ سره چى دكمو لمونځونو دقضاء كيدو نوبت راسى نوجائز دى اوكه نه؟

جواب: په دى كى گنهگار مور اوپلار دى اوښځى لره ددوى تابعدارى اوددوى بيره كول جائز نه دى لكه چى په حديث پاك دى (لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق. مشكوٰة كتاب الامارة ص ۳۳. ظفير)

مخكې ښځى ته طلاق وركول غواړم خومور اوپلار راضي نه دي اوبل طرف ته مساوات نه سم ساتلي نوڅه حكم دی؟ **سوال**: (۱۵۱۱) دبنده نكاح شپږ نيم كاله مخكى ديوى انجلۍ سره وسوه چى دغه ځاى زما خوښ نه وو خوپه زور دانكاح وسوه چى دغه وخت زه بالغ وم دشروع دنكاح څخه زما دخپلى منكوحى سره محبت نسته، اوزما اراده ددوهمى نكاح وسوه نومور اوپلار ته مى ښكاره كړه خودوى راضى نه سوه اونه دوى اجازه راكړه، دبلى خوا څخه مور اوپلار ډير زور پرما واچوى چى زما تعلقات دخپلى ښځى سره ښه پيداسى اومابه هم اكثره خپل طبيعت ډير مجبوروى خوڅه ښه اثر ونه سو كه څه هم په خپل صورت كى مى ددى سره دښځى اودخاوند تعلق وساتى اوداسى دوه كاله تير سوه خوڅه اولاد وغيره هم ونه سو، وروسته ددوو كالو څخه مى په خپله مرضى او دمور اودپلار دمرضى خلاف مى دوهمه نكاح وكړه چى دهغې سره الله ﷻ زما محبت هم پيداكى اوچى ماڅه غوښتل نوهغه الله ﷻ راكړل، اوس زما اراده مخكى ښځى ته دطلاق وركولو ده ځكه چى ددوهمى نكاح كولو په صورت كى به زما ددى سره هغه لږ ډير تعلق هم ختم سى، اوهمداسى وسوه ماډير وغوښتل چى طلاق وركړم خومور اوپلار مى سخت نارضاؤ اودوى بالكل ددى اجازه رانه كړه اودوى وويل چى كه تا طلاق وركى نوموږ به ستاسره ټول عمر ونه وينو نوما پريښوول خوزما ددى سره بالكل محبت نسته اونه مي ددى سره تعلقات ښۀ دى داسى تقريبا دوه كال نورهم تيرسوه اوزما اوددى په تعلقاتو كى هيڅ اثر پيدانه سو اوس زه غواړم چى ديته طلاق وركړم چى داهم په ارام او زه هم ددى سختى مواخذى څخه خلاص سم خو والدين مى هيڅ ځنگه نه منى هغوى په دى خپل ضد وى چى كه ته ديته طلاق نه وركوى نوموږ به ستاسره وينو كنې نو موږ به ستا څخه ليرى يو، اواصل خبره داهم ده چى زما مخكى ښځه هم په طلاقو خوشحاله نه ده، اوزما داحالت دى چى زه ددوو ښځو دخرڅ اودتعلقاتو برداشت كولو قابل نه يم، او

که دواړه وساتمه نوهم موافق دقانون الهی به ددواړو سره مساوات ونه کړی سم نودیو لوی گناه مرتکب کیږم اوکه طلاق ورکوم نودوالدینو دنافرمانی مرتکب کیږم، نوماته اوس څه کول په کاردی؟

جواب: ښه خودا ده چی دوالدینو هم اطاعت وسی او ددوی دمرضی خلاف ونه سی او دمخکنی ښځی حقونه هم اداسی که څه هم دطبیعیت اودخواهش خلاف وی خو پر طبعیت دی جبر وسی اودالله ﷻ دبیری څخه په هرو دواړو ښځو کی دي عدل اومساوات وسی باقی دزړه محبت چی دیوی سره زیات اودبلی سره کم وی یا بالکل نه وی نوپه دی باندی مواخذه نسته اوپه جماع اوپه صحبت کی هم مساوات شرط نه دی، خوپه شپه تیرولو یعنی دشپی دځان سره په اوسولو کی دواړه برابر ساتل چی یوه شپه دیوی سره اوبله شپه دبلی سره تیره کړی اودارکم په نان اونفقه کی هم برابری شرط ده (۱) خوکه یوه ښځه خپل حقونه معاف کړی نوبیا عندالله دمواخذی څخه بری دی، الغرض داچی دا صورت خوداسی دی چی مور اوپلار هم خوشحاله سی اودښځی حق تلفی به هم ونه سی. اوکه داسی نه سی کیدی اودیوی ښځی حقونه بالکل نه سی ادا کولی اوچی څومره مساوات اوعدل ضروری دی هغه نه سی کولی اونه داښځه خپل حقونه معاف کوی نوبیا ضروری ده چی دیته طلاق ورکول سی (۲) اودمور اودپلار دراضی کولو دی بل صورت وسی اودطلاق ورکولو څخه وروسته دی ددوی منت او خوشامندی وسی اوهرقسم تابعداری دی وسی نوکه بالفرض دوی بیاهم نه راضی کیږی نوپه تاباندی څه مواخذه شرعی نسته خو دښځی حقونه نه اداء کول اوددی دطرف څخه دنه معافی په صورت کی سخته مواخذه ده چی ددی مکافات نه سی کیدی، او دوالدینو اطاعت تردی حده پوری ضروری دی چی دمعصیت ارتکاب پکښی نه وی، اوپه هغه صورت کی چی دالله ﷻ دنافرمانی ارتکاب پکښی راځی نودمور اودپلار دغه رضا طلب کول نه دی په کار ځکه چی شرعی حکم دادی چی: لا طاعة لمخلوق فی معصية الخالق (۳). یعنی دالله ﷻ په نافرمانی کی دهیڅ مخلوق تابعداري به نه وی نودوالدینو داطاعت په وجه دښځی حق

---

(۱) يجب وظاهر الآية أنه فرض أن يعدل أي أن لا يجوز فيه أي في القسم بالتسوية في البيتوتة وفي الملبوس والمأكول والصحبة لا في المجامعة كالمحبة من يستحب (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب القسم ج۲ ص ۵۴۲ – ۵۴۷. ط. س. ج۳ ص۲۰۱). ظفير

(۲) ويجب لفوات الامساك بمعروف (ايضا كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲ درمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق، ط.س. ج۳ ص۲۲۹). ظفير

(۳) مشکوٰۃ کتاب الامارۃ ص۳۲۱. ظفير

تلفی نه سی جائز کیدی حاصل دادی چی دحقوقو دزوجیت رعایت مقدم دی اویا پر خپل نفس دي صبر وسی چی دښځی ظاهری حقوق اداسی اویادی ددی څخه معافی واخیستل سی کنې نو طلاق دی ورکول سی. فقط

چی پلار زوی ته ووايي چی ښځی ته طلاق ورکړه نوڅه کول په کاردي؟ سوال: (۱۵۱۲) که والدین بی دخه خفګان څخه خپل زوی ته ووايي چی ښځی ته دی طلاق ورکړه اوکه طلاق نه ورکوی نوبیا پرده مه په کوه کنې نو ته به زما څخه خلاصه اوزه به ستا څخه خلاص یم، نوپه دی صورت کی طلاق ورکړی اوکه نه؟ اوکه ښځه بی پرده کړی نوڅه حکم دی؟

جواب: طلاق ورکول په دی صورت کی لازم نه دی اوطلاق نه ورکول به نافرمانی نه وی ([1]) اوخپله ښځه بی پردی کول ګناه ده اوپه ګناه اطاعت دهیچاهم جائزنه دی. لاطاعة لمخلوق فی معصیة ([2]) الخالق. فقط

دمور اوپلار دخوشحالولو دپاره دخاوند بی پروايي کول جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۱۵۱۳) که یوه انجلۍ دخپل خاوند په دی خیال بی پرواهی کوی اودده خبره نه منی اودده کورته دتلو څخه انکار کوی چی زما څخه به زمامور اوپلار نارضا سی اوهمیشه لیدل به راسره پریږدی اوماته به ښراوی وکړی نوپه داسی خیالونو اوپه وهمونو ښځی لره دخاوند خلاف کول جائزدی اوکه نه؟ اودمور اودپلار دښراوو اثر به وی اوکه نه؟

جواب: ښځی لره په دی خیالاتو او وهمونو دخاوند تابعداری اواطاعت نه دی پریښوول په کار په دی صورت کی والدین په ناحقه دی اوددوی دښراوو خیال دی ونه کړی او دخاوند رضا دی مخکی کړی ([3]). فقط

چی مور اوپلار دخاوند دحکم دمخالفت کولو ووايي نوښځه باید څه وکړی؟ سوال: (۱۵۱۴) که مور اوپلار خپلی لور ته ووايي چی ته دخپل خاوند څخه بی پرواهی کوه اوزموږ دوینا موافق کوه اودخاوند خبره مه منه اودده دراحت اودتکلیف هیڅ خیال مه کوه، نوپه داسی حالت کی دمور اودپلار دوینا منل په کاردی اوکه نه؟

جواب: دا حکم دمور او دپلار دمنلو لائق نه دی او دشرع خلاف حکم دی موافق د حدیث

([1]) عن ابن عمر ان النبی ﷺ قال ابغض الحلال الی الله الطلاق رواه ابوداود (مشکوٰة باب الخلع والطلاق ج۲ ص۲۸۳). ظفیر

([2]) مشکوٰة المصابیح کتاب الامارة ٣٢١. ظفیر

([3]) عن انس قال قال رسول الله ﷺ المراة اذا صلت خمسها وصامت شهرها واحصنت فرجها واطاعت بعلها فلتدخل من ای ابواب الجنة شاءت رواه ابونعیم فی الحلیة (مشکوٰة باب عشرة النساء ص۲۸۱). ظفیر

مذکوره: لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق ([1]). په دی باره کی دمور اوډپلار اطاعت جائز نه دی که انجلۍ په دی باره کی دمور اوډپلار دوینا مطابق عمل وکړی نوګنهګاره به وی . فقط

دښځې دپاره دخاوند حکم منل مقدم دی اوکه دمور اوډپلار؟ سوال: (۱۵۱۵) دښځې پر ذمه دمور اوپلار حکم منل ضروری اومقدم دی اوکه دخاوند؟

جواب: په اندازه دمرتبو ددواړو اطاعت ضروری دی چی کم امور متعلق دحق دخاوند توب دی نوپه هغه کی دخاوند اطاعت ضروری دی اوچی کم متعلق دوالدینو دخدمت دی اوهم دراحت نوپه هغوی کی دوالدینو اطاعت لازم ([2]) دی دانه ده چی دیوه په وجه دبل حقونه اداء نه سی ځکه چی دباری تعالیٰ په نافرمانی کی به دچا اطاعت هم نه وی. لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق ([3]). فقط

چی کله دښځې اودمور نه سره لګیږی اومور په جلا کیدو راضی هم نه وی نوڅه وسی؟

سوال: (۱۵۱۶) بکر دباندي اوسیږی اوښځه اومور یي دبکر په کور کی اوسیږی اوپه دواړو کی همیشه جګړه وی بکر وایي چی ښځه اومور جلا کړی خومور په جلاکیدو راضی نه ده نوبکر لره څه کول په کاردی؟

جواب: جلا جلا ساتل په کاردی خوکه په دواړو کی موافقت راسی نودمور په ویلو دی عمل وکړی اوچی کله دیوځای په اوسیدو کی فساد دی نوبیا دی ښځه جلا کړی خوپه دی شرط چی مورته تکلیف نه وی اوکه تکلیف وی نودمور تکلیف لیری کول مقدم دی اوښځه دی دهمدی سره وساتی. فقط

خپله ښځه ددی دپلار درضا څخه بغیر خاوندخپل کورته بیولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۵۱۷) زید دیوی انجلۍ سره بی دڅه شرط څخه نکاح وکړه انجلۍ واده سوه اودده کره راغله څو ورځی وروسته بیا انجلۍ دپلار کره ولاړه اوس مور اوپلار یي داغواړی چی زید دی خپله ښځه ددی دمور اوډپلار سره په همدی ښار کی وساتی اوخپل وطن ته دې نه بیایی نوزید اوس خپله ښځه دخپل ځان سره بېولی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ویسافر بها بعداداء کله موجلا ومعجلا اذا کان مامونا علیه

([1]) وګوریئ: مشکوٰة کتاب الامارة ص۳۲۱. ظفیر

([2]) ولا یمنعها من الخروج إلی الوالدین في کل جمعة إن لم یقدرا علی إتیانها الخ ولو أبوها زمنا فاحتاج فعلیها تعاهده ولو کافرا وإن أبی الزوج (درمختار) لرجحان حق الوالد (ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص ۵۱۵ ، ط.س. ج۳ ص ۲۰۲). ظفیر

([3]) مشکوٰة کتاب الامارة ص ۳۲۱. ظفیر

والا یؤد کله اولم یکن مامونا لا یسافر بها وبه یفتی الخ ([1]). فقط
ددی حاصل دادی چی خپله ښځه په پوره مهر ادا کولو سره دخپل ځان سره بېولی سی چی کله ښځی ته دخاوند دطرفه څه بیره دتکلیف رسولو نه وی اوکه مهر نه وی ادا سوی اویا اطمنان نه وی نوبیایي نه سی بېولی. (خودلته دسفر متعلق سوال نه دی بلکی دخپل کور ته دبېولو سوال دی نوددی جواب دادی چی خاوند به خپله ښځه خپل وطن ته بوځی اوپه دی کی دښځی دانکار حق نسته: للزوج ان یسکنها حیث احب ولکن بین جیران صالحین، ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص ۹۱۴. ظفیر)

دملازمت ځای ته ښځه ددې درضا څخه بغیر بېول څنګه دی؟ سوال: (۱۵۱۸) زید چی باشنده دکاکوری دضلع لکهنو دی اوپه حیدرابادکی ملازم دی دپیژندګلوي اودپخوانی دوستی په وجه دزید نکاح دعمر دلور سره په حیدر آباد کی وسوه اوڅه شرط دمهر او دتلو راتلو وغیره بیان نه سو دنکاح څخه وروسته عمر خپل لور دزید سره څو واره دزید پرځای دملازمت مختلف اضلاعو ته دعلاقی درمیانی روانه کړه دنکاح څخه شپږ کاله وروسته خپله هنده اودهندی پلار ته داعذر وسو چی دزید سره لیری ځای ملازمت دزید ته تلل مورته منظور نه دی ځکه چی ددوی بیان دی چی دزید شرعًا څه داسی حق نسته چی دادی هنده په سفر دځان سره بوزی، مطالبه دمهر باعث دانکار دسفر نه دی، نو پوښتنه داده چی په داسی حالت کی زید خپله ښځه هنده دملازمت اوداوسیدو ځای ته بېولی سی شرعًا اوکه نه؟ که هنده په عذر داذیت اودتکلیف ورکولو انکار کوی نوشرعًا جائز دی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار ناقلا عن النهر والذی علیه العمل فی دیارنا انه لایسافر بها جبرًا علیها وجزم به البزازی وغیره وفی المختار وعلیه الفتوٰی الخ درمختار ([2]). وفی الشامی وبعد ایفاء المهر اذا اراد ان یخرجها الی بلاد العربیة یمنع ذالك ([3]) الخ. ددی روایتونو څخه معلومه سوه چی دملازمت ځای ته دښځی بېول ددی درضا څخه بغیر نه دی په کار خاص کر چی کله ددوی دایذاء اودتکلیف رسولو خیال وی. فقط

دخاوند پر ذمه دښځی څه لوازم دی؟ اودخاوند څه مالی حق پر ښځی سته اوکه نه؟ سوال: (۱۵۱۹) دروزمره معمول جامی اوخوراك دخاوند دطاقت مطابق اودمهر معین څخه علاوه پرخاوند دښځی نور هم څه حق واجب دی مثلا داختر دپاره اعلی قیمتی جامی،

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر مطلب فی السفر بالزوجة ج۲ ص۴۹۵، ط.س. ج۳ ص۱۴۲.
([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر مطلب فی السفر بالزوجة ج۲ ص۴۹۷، ط.س. ج۳ ص۱۴۲.
([3]) ردالمحتار باب ومطلب ایضا ج۲ ص ۴۹۵ ، ط.س. ج۳ ص ۱۴۲. ظفیر

په ناجوړی کی ددوا قیمت اودطبیب فیس دتیمار داری وغیره خرچه او دقریبانو کره دسفر خرچه اودتحفې قیمت که خاوند ښځه هم ددې په وینا دځان سره په سفرکی وساتی نودسفر خرځ به دچا پرذمه وی اوکالی هم دخاوند پرذمه واجب دی اوکه نه؟ که مذکوره اشیاء دخاوند په ذمه واجب نه دی نودا مذکوره شیان په مهرکی حسابیدی سی اوکه نه؟ اوکه ښځه په دی راضی نه وی نوخاوند دادقریبانو کره دتللو څخه اوغیر محرم ته دخط لیکلو څخه بندولی سی اوکه نه مهر به عندالله ښځه دخاوند څخه په خپله اخلی اوکه یا ددی وارثان ایا دخاوند هم څه مالی حق پر ښځی سته اوکه نه چی دابه خاوند دښځی څخه اخلی؟

جواب: په درمختار کی دی: کما لایلزم مداواتها ای اتیانه لها بدواء المرض ولا اجرة الطبیب ولا الفصد ولا الجماعة الخ شامی ([1]) ج۲ ص۷۴۲ وایضا فی الشامی تنبیه: قد علم مما ذکر انه لایلزمه لها الفهوة والدخان وان تضررت بترکها لان ذالك ان کان من قبیل الدواء اومن قبیل التکفه فکل من الدواء والتکفه لایلزم کما علمت ([2]) الخ ج۲ ص ۷۴۹.

حاصل داچی پرخاوند دمعمولي نفقي یعنی دجامو اودخوراك وغیره ضروریاتو دکور څخه بل څه شی مثلاً ددواء قیمت دطبیب اجرت داختر اعلی قیمتی جامی اودقریبانو کره دتلو خرچه به دخاوند پرذمه واجبه نه وی، که دا شیان په نیت دمهر ادا کړي اوښځه دا قبول کړي نودا په مهرکي حسابیږي، اوکه خاوند یې دځان سره په سفرکي بوزي نو دسفر خرځ به دخاوند پرذمه وي اودابه په مهر کی نه سی حسابیدی.

اودارکم په درمختار کی دی: ولا یمنعها من الخروج الی الوالدین فی کل جمعة ([3]).

(ترجمه) اوخاوند به ښځه دمور اوپلار کره دتللو څخه په جمعه کی نه بندوی اودغیر محرم سره دلیدو اودخط لیکلو څخه یې منع کولی سی اومنع کول په کاردی ([4]) دمهر موجل دوصول وخت طلاق اویامرګ دی که خاوند دیته طلاق ورکړی نودطلاق څخه وروسته داښځه خپل مهراخیستی سی اوکه خاوند مړسی نودده دترکه څخه یې اخیستی

([1]) ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص ۸۸۹ ، ط.س. ج۳ ص ۵۷۵. ظفیر

([2]) ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۹۳ ، ط.س. ج۳ ص۵۸۰. ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۱۴، ط. س. ج۳ ص۲۰۲. ظفیر

([4]) ویمنعها من زیارة الأجانب وعیادتهم والولیمة وإن أذن کانا عاصیین وفي البحر له منعها من الغزل وکل عمل ولو تبرعا لأجنبي ولو قابلة أو مغسلة لتقدم حقه علی فرض الکفایة ومن مجلس العلم (ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۱۵ ، ط.س. ج۳ ص۲۰۲). ظفیر

سی اوکه ښځه مړه سوه نو ددی وارثان به يي اخلی اوپه وارثانو کی خاوند هم داخل دی اودده حصه به ساقطه وی دخاوند هيڅ مالی حصه دښځی پرذمه په سبب دنکاح نسته چی خاوند يي دښځی څخه وصول کړی. قال الله تعالی واحل لکم ماوراء ذالکم ان تبتغوا باموالکم (۱). نوسړيانو ته حکم دی چی مال خرڅ کړی اوښځی طلب کړی، او ددوی حق ادا کړی نه داچی خاوند دښځی څخه څه مال واخلی خوکه دمال په بدله خلع وسی نودا مال به خاوند دښځی څخه اخلی. فقط

<u>په زمانه دامید کی ترکمه مجامعت جائز دی؟</u> سوال: (۱۵۲۰) شرعًا دخپلی ښځی سره په حالت دحمل کی ترکمه مجامعت صحیح دی داوو اوداتو والا میاشتو دامید واری ښځی سره مجامعت جائز دی اوکه نه؟

جواب: دخپلی ښځی سره په مجامعت کولو کی په حالت دحمل کی هيڅ حرج نسته اوپه اوومه، اتمه، نهمه میاشت کی هم مباشرت صحیح دی اوشرعا هيڅ ممانعت نسته خو چی په کم حالت کی ضرر وی نوپه دی حالت کی بچ کیدل ښه دی اوشرعی ممانعت هيڅ نسته (۲). فقط

لسم باب

احکام درضاعت دانسان دشیدو چښلو په باره کی احکام او مسئلې

<u>مده درضاعت څه ده اوپه دی کی کمی او زیاتی جائزدی اوکه نه؟</u> سوال: (۱۵۲۱) صحیح موده درضاعت څه ده؟ اوپه یوصورت کی کمی یازیاتی راتلی سی اوکه نه؟

جواب: موده درضاعت یعنی چی په کمه زمانه کی ماشوم ته په شیدو ورکولو سره حرمتِ رضاعت ثابتیږی اوپه دی موده کی ماشوم ته تی ورکول مباح دی نودامام صاحب په نزد دوه نیم کاله دی اودیارانو په نزد دوه کاله دی اوداکثرو علماءِ کرامو فتوٰی پردوه کاله ده اوبعضو علماء کرامو لیکلی دی چی فتوٰی دامام صاحبؒ پرقول ده علامه شامی لیکی چی غرض داچی په دواړو قولونو فتوٰی ورکول سویده نوخلاصه داده چی په دوو نیمو کالوکی دننه که ماشوم ته شیدی ورکول سی نوبیا هم حرمت درضاعت ثابتیږی

---

(۱) سورة النساء. ظفیر

(۲) ولو تضررت من کثرة جماعه لم تجز الزیادة علی قدر طاقتها (ردالمحتار ج۳ ص۲۰۳) فعلم من هذا کله انه لا یحل له وطوها بما یودی الی اضرارها الخ (ردالمحتار باب القسم ج۲ ص ۵۴۸ - ۵۴۹). ظفیر

اوددوو نیمو کالو ترعمر پوری شیدی موافق دقول دامام اعظم رحمه‌الله صحیح اوجائز دی خو احتیاط دادی چی دوه کاله وروسته دی بند سی (۱). فقط

خپل وړور ته یوه ښځه شیدي ورکولی سی اوکه نه؟ سوال: (۱۵۲۲) ښځه خپل سکه وړور ته شیدی ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: په موده درضاعت کی ورکولی سی (۲) (خو بیا ددی دوړور داولادونو سره ددی داولادونو واده جائز نه دی اودا ددی رضاعی زوی دی اودخپلو شیدو ورکولو شهرت دی په خلګو کی وکړی چی وروسته څه غلطی ونه سی اوچی څه مجبوری وی نوشیدی دی ورکړی اوهسی دی داپه شوق نه ورکوی (۳). ظفیر)

دپردي بچي په صورت کی مده درضاعت دوه کاله ده اوکه زیاته؟ سوال: (۱۵۲۳) که یوې داسی ښځی ته چی دهغې ماشوم پرسینه نه وی بچی ورته وپارول سی اودی ماشوم سینی ته واچوی اوپه دی سره شیدی راشروع سوی نوددی دپاره هم ددوو کالو قید دی دشیدو ورکولو اوکه نه څه پراختیا پکښی سته؟

جواب: ددی دپاره هم دشیدو ورکولو دوه کاله قید دی اوددی څخه ترزیاتی مودی پوری موافق دروایت دمفتی به شیدی جائز نه دی اودا دیارانو قول دی اوهم پردی فتوٰی ده او امام صاحب ددوو نیمو کالو پوری دشیدو ورکولو اجازه ورکوی (۴). فقط

ددوه نیم کالو څخه په وروسته شیدي ورکولو سره رضاعت نه ثابتیږي: سوال: (۱۵۲۴) که یوسړی دیوی ښځی شیدی په طور ددواء یاهمداسی وچښلی نوددی ښځی سره دده نکاح کیدی سی اوکه نه؟ اوددی داولاد سره دده واده کیدی سی اوکه نه اودشیدو مده څومره ده؟

جواب: موده درضاعت دوه اویا دوه نیم کاله ده بنا براختلاف دقولینو، نوکه ددی مودی

---

(۱) هو حولان ونصف عنده وحولان فقط عندهما وهو الأصح فتح وبه یفتی کما في تصحیح القدوري عن العون لکن في الجوهرة أنه في الحولین ونصف ولو بعد الفطام محرم وعلیه الفتوی واستدلوا لقول الإمام بقوله تعالی: وحمله وفصاله ثلاثون شهرا، أي مدة کل منهما ثلاثون الخ ویثبت التحریم في المدة فقط الخ ولم یبح الإرضاع بعد مدته لأنه جزء آدمي والانتفاع به لغیر ضرورة حرام علی الصحیح (درمختار) وحاصله انهما قولان افتٰی بکل منهما (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص **۵۵۴، ۵۵۵**. ط.س. ج۳ ص ۲۰۹). ظفیر

(۲) ولم یبح الارضاع بعد مدته لان جزء اٰدمی والانتفاع به بغیر ضرورة حرام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص **۵۵۵** ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۱). ظفیر

(۳) والواجب علی النساء ان لایرضعن کل صبی من غیر ضرورة واذا ارضعن فلیحفظن ذالك ولیشهرنه ویکتبه احتیاطاً (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص**۵۵۷** ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۲). ظفیر

(۴) هو حولان ونصف عنده وحولان فقط وهو الاصح فتح وبه یفتی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص **۵۵۴** ، ط.س. ج۳ ص ۲۰۹). ظفیر

څخه وروسته یوهلك دیوی ښځی شیدی وچښلی نوحرمت درضاعت نه ثابتیږی ([1]). فقط

دځلورو کالو هلک دشیدو په چښلو سره رضاعت نه ثابتیږي: **سوال**: (۱۵۲۵) یوی ښځی خپلی شیدی را ایستلی وی اوپه پیاله کی یې اچولی وي ددی وراره چی دځلورو کالو وو راغی اوشیدی یې وچښلی دده نکاح دخپل اکا دلور سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی حرمت درضاعت ثابت نه دی ځکه چی موده درضاعت دوه یا دوه نیم کاله ده ددی څخه په زیات عمرکی په شیدو چښلو سره حرمت درضاعت نه ثابتیږی. کما فی الدرالمختار ([2]). نومذکوره نکاح صحیح سوه. فقط

دخمس رضاعات ناسخ: **سوال**: (۱۵۲۶) تاسی به دخمس رضعات کم یو حدیث یا آیت ناسخ مقرر کړی اوعلامه نووی ؒ چی داقول دعائشی ﵂ چي: ثم ینسخ بخمس معلومات په آیت منسوخ التلاوت ګرزوی نودعلامه سره ددی ناسخ کم آیت یاحدیث دی اوکه صرف په قول دعائشی ﵂ : وهی فیما یقرا من القران ، حجت نیسی؟

جواب: خمس معلومات موافق دعشر معلومات منسوخ کیدل په خپله ددی څخه ښکاره دی چی په مصحف کی نسته نوکه دا آیتونه په قرآنکریم کی وای نوخامخا به په مابین الدفتین کی مکتوب وای، نوددی وجه څخه ملاعلی قاری رح په: وهی فیما یقرأ، باندی لیکی یعنی: ان بعض من لم یبلغه النسخ کان یقرأ علی الرسم الاول. ددی څخه معلومه سوه چی چاته نسخ معلومه نه وه نوهغه به وایه اونسخ ددی معلومه اومشهوره اومتواتره ده: والا لکان مکتوبا في المصاحف ومن ادعی انه کان من قبیل منسوخ التلاوة لا منسوخ الحکم فعلیه البیان وکیف یدعی بقاء الحکم والحال ان قوله تعالی: وامهاتکم اللاتي ارضعنکم، یدل باطلاقه علی ان المحرم مطلق مسمی الارضاع لا خصوص الرضعات. فقط

ددوو کالو څخه زیات بچی ته شیدی ورکول څنګه دي؟ **سوال**: (۱۵۲۷) ماشوم ډیر کمزوری دی ماسوا دښځی دشیدو څخه بله غذانه سی هضمولی اوده عمر ددوو کالو څخه زیات دی نوده ته دښځی شیدی ورکول جائزدی اوکه نه؟

جواب: صحیح نه دی. درمختار ([3]). فقط

([1]) ویثبت التحریم فی المدة فقط وعلیه الفتوٰی (درمختار ج۳ ص۲۱۲) اما بعدها فانه لایوجب التحریم (رد المحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۵). ظفیر

([2]) وهوحولان ونصف عنده وحولان فقط عندهما ویثبت التحریم فقط (درمختار) امابعدها فانه یوجب التحریم (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۵. ط.س. ج۳ ص ۲۰۹). ظفیر

([3]) ولم یبح الارضاع بعدمدته لانه جزء آدمی (درمختار) لو استغنی فی حولین حل الارضاع بعدهما الی نصف =

په حَوۡلَيۡنِ كَامِلَيۡنِ اوپه حَمۡلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلٰثُوۡنَ شَهۡرًا کی تطبیق: **سوال**: (۱۵۲۸) په قرآنکریم کی په حولین کاملین کی په باره درضاعت کی راغلی دی یعنی په مده درضاعت کی چی ددی څخه دوه کاله موده درضاعت معلومیږی اوپه بل ځای کی: حمله وفصاله ثلٰثون شهرا، راغلی دی چی ددی څخه دوه نیم کاله معلومیږی نوپه دی دواړو کی تطبیق څنګه دی اوپه کم یوه باید عمل وسی؟

جواب: دامام ابوحنیفه ﷺ مذهب ددوه نیم کالو دی اودیارانو مذهب ددوو کالو دی او فتوٰی دیارانو پرقول ده اودلائل دفریقینو په مطولاتو کتابونو کی دی اووجه دتطبیق هم په کتابونو کی ذکرده اودا مختصر تحریر ددی ځای نه لری (۱). فقط

په ثبوت درضاعت کی دروایت اعتبار دی اوکه دعلم؟ **سوال**: (۱۵۲۹) دثبوت درضاعت دپاره نصاب دشاهدی کم ازکم دوه سړی اویا یوسړی اودوی ښځی ګرځول سویدی اوپه شاهدی کی درؤیت اعتبارسویدی، حال دادی چی درضاعت دپاره روایت درجال ناممکن دی، ځکه چی دسړی دښځی بدن ته کتل حرام دی نوچی کله رؤیت نه وی نورضاعت به څنګه ثابتیږی په ثبوت درضاعت کي صرف رؤیت لره دخل دی اوکه سماعت لره هم دخل کیدی سی حال داچی دنکاح وغیره ثبوت په سماع اوسماعت سره کیدی سی.

جواب: رضاعت په هغه شیانو کی نه دی شمار سوی چی په دی کی پرتسامح شاهدی معتبره سوی وی اودشبهی جواب دادی چی بعض محارم مشهوده کیدی سی چی دهغوی کتل صحیح دی اودبعضو پردو سړو نظرهم اتفاقا پر پرېوزی، چی موجب دمواخذی نه دی علاوه ددی څخه شاهد ته علم درضاعت کیدل کافی دی یعنی داچی فلانی ماشوم رودونکی دفلانی ښځی شیدی چښی چی په خبر متواتر وغیره سره حاصلیږی، دداسی کتو ضرورت نسته چی دی تی په خوله دماشوم کی ووینی اوشاهدی ورکړی او دتی په خوله کی دلیدو څخه هم دامعلومیږی چی شیدی دماشوم نس ته ولاړی اوکه نه؟ نوددی وجه څخه ددی هیڅ ضرورت نسته، غرض داچی دشاهدی دپاره علم ددی خبری چی فلانی ماشوم دفلانی ښځی شیدې چیښی کافی دی لکه چی په درمختار کی یې دلفظ

= فلا اثم عندالعامة خلافا لخلف بن ایوب ؒ مستحب الی حولین ونصف (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۵).

(۱) هو حولان ونصف عنده وحولان فقط عندهما وهو الأصح فتح وبه يفتى كما في تصحيح القدوري عن العون لكن في الجوهرة أنه في الحولين ونصف ولوبعد الفطام محرم وعليه الفتوى واستدلوا لقول الإمام بقوله تعالى: وحمله وفصاله ثلاثون شهرا، أي مدة كل منهما ثلاثون غير النقص في الاول قام بقول عائشة ؓ لا يبقى الوالد اكثر من سنتين ومثله لا يعرف الا سماعا ولاية مؤولة لتوزيعهم الاجل على الاقل والاكثر لم تكن دلالتها قطعية (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۴). ظفير

داشهد ويلو دامعنٰی بيان کړيده: فکانه يقول اقسم بالله لقد اطلعت علی ذالك وانا اخبر به الخ. (۱) فقط

دمدی درضاعت ښځه وروسته په شيدو چنبلو سره حرمت نه ثابتيږي: **سوال**: (۱۵۳۰) زيد دهندی شيدی وروسته دعمر دتی رودو ښځه دتی ښځه راکش کړې او بيايي توی کړې ددی وجه ښځه چی دهندی بچی مړ سوی وو اوشيدی را لوړی سوی وی بيا زيد دهندی سره نکاح وکړه نودا نکاح جائزده اوکه نه؟

جواب: په مذکوره ضرورت سره دتی ښځه دشيدو په راکشولو را ايستلو او بيا تويولو کی څه حرج نسته اوپه دی سره حرمت درضاعت نه ثابتيږی اوکه دتی رودولو دعمر ښځه وروسته شيدی نس ته هم ولاړی سی نوپه دی سره حرمت نه ثابتيږی (۲) خوشيدی چنبل دغه وخت حرام دی (۳) اونکاح ددی سره صحيح ده يعنی دزيد نکاح په دی صورت کی دهندی سره صحيح ده. فقط

درضاعي خور دلور سره نکاح جائزنه ده: **سوال**: (۱۵۳۱) زينب اوزيد په يوه اوبل پسی ديوی ښځی شيدی وچنبلی اوس دزيد نکاح دزينب دلور سره کيدی سی اوکه نه؟

جواب: زينب اوزيد چی کله ديوی ښځی شيدی چنبلی دی که څه هم په يوبل پسی يي چنبلی دی دواړه رضاعی ورور اوخور سوه اودزينب لور دزيد رضاعی خور زه ده نودزيد نکاح دزينب دلور سره جائزنه ده. (۴) فقط

ميريزی انا شيدی ورکړلی: **سوال**: (۱۵۳۲) دعمر يو لمسی دی ده ته دعمر دوهمی ښځی چی ددی هلك ميريزی انا کيږی شيدی ورکړلی نوددی هلك نکاح دخپل اکا يعنی دبکر دلور سره کيدی سی اوکه نه؟ ځکه چی دادده دسکه ترور (عمه) لورده اوپه دی صورت کی حرمت درضاعت ثابت دی اوکه نه؟

جواب: که ددوو نيمو کالو ښځه يي په کم عمر کی شيدی چنبلی وی نوحرمت درضاعت ثابت دی اونکاح صحيح نه ده. (۵) فقط

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ط.س. ج۵ ص۴۲۲. ظفير

(۲) واذا مضت مدة الرضاع لم يتعلق بالرضاع تحريم لقوله ﷺ لارضاع بعد الفصال (هدايه کتاب الرضاع ج۲ ص ۳۳۹). ظفير

(۳) وهل يباح الارضاع بعد المدة؟ قد قيل لايباح لان اباحته ضروری لکونه جزء الادمی (ايضا ج۲ ص۳۳۰). ظ

(۴) حرم علی المتزوج ذکرا کان او انثی نکاح اصله وفرعه علا او نزل وبنت اخيه واخته وبنتها ولو من زنا (در مختار باب المحرمات ج۲ ص۱۸۷، ط.س. ج۳ ص۲۸) وفيه فيحرم منه ای بسبب ما يحرم من النسب (کتاب الرضاع ج۵ ص۲۱۳. ط.س. ج۳ ص۲۱۳). ظفير

(۵) وفيه فيحرم منه ای بسبب ما يحرم من النسب (الدر المختار ج۱ ص۲۱۳ ط.س. ج۳ ص۲۱۳) هو حولان =

صرف تی دخولي سره په لګولو باندې رضاعت ثابتيږي اوکه نه؟ سوال: (۱۵۳۳) دزيد دمور وفات په موده درضاعت کې سوی وو، زينب خپل تی دزيد په خوله کې ورکې خوشيدی بالکل رانغلی، نوپه دی صورت کې دزيد نکاح دزينب دلور سره جائزده اوکه نه؟

جواب: که دا يقين وی چې دزينب شيدی نه وی راغلی اودزيد په حلق کې يو څاڅکی هم نه دی تللی نودزيد نکاح دزينب دلور سره صحيح ده (۱). فقط

خاوند ته په شيدو ورکولو سره نکاح نه ماتيږي: سوال: (۱۵۳۴) يوی ښځی خپل خاوند ته شيدی ورکړی نونکاح ماته سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کې نکاح قائمه ده اوباطله نه ده. قال في الدرالمختار: مصّ رجل ثدی زوجته لم تحرم (۲). فقط

دشيدی ورکوونکې ښځې ټول اولاد دشيدو رودونکې رضاعي ورونه اوخوندی دي: سوال: (۱۵۳۵) زيد دهندی شيدې په عمر دتی رودو کې وچښلی نوټول اولاد دهندی دزيد ورونه اوخوندی سوی اوکه صرف هغه انجلۍ ياهلك چې دکم شيدی زيد چښلی دی دزيد خور او ورور سوه؟ ځکه چې دزيد نکاح دهندی دلمسی سره سويده خو لاخلوت نه دی سوی زيد وايي چې دهندی دا لمسۍ دهندی دهغه لور لور ده چې دچا شيدې ما نه دی چښلی ددی وجه څخه دازما خورزه نه ده ماخو دهندی دزوی دبکر شيدی چښلی دی که دا دهندی دزوی يعنی دبکر لور وی نوزمابه وريره وی، ددی وجه څخه داپه ما حرامه نه ده ځکه چې بکر دهندی دټولو څخه کشری اولاد دی دهندی دالمسی دمخکې لور لور ده اودهندی شپږ اولاده دی؟

جواب: په دی صورت کې ټول اولاد دهندی دزيد رضاعي ورونه اوخوندی سوی نو دهندی دلمسی سره دزيد نکاح حرامه ده اودزيد عذر غلط دی اوسبب دجهالت دی چې دشرعی مسئلې څخه بی خبره دی په درمختارکې صريح موجود دی: ولاحل بين الرضيعة وولد مرضعتها ای التی ارضعتها وولد ولدها لانه ولد الاخ باب الرضاع. اوپه شامی کې دی: قوله وان اختلف الزمن کان ارضعت الولد الثانی بعد الاول بعشرين سنة مثلا

= ونصف عنده وحولان فقط عندهما (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الرضاع ج۲ ص۵۵۴ ، ط. س. ج۳ ص ۲۰۹). ظفير

(۱) وفی القنية امرأة كانت تعطي ثديها صبية واشتهر ذلك بينهم ثم تقول لم يكن في ثديي لبن حين ألقمتها ثدي ولم يعلم ذلك إلا من جهتها جاز لابنها أن يتزوج بهذه الصبية (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۲، ط. س. ج۳ ص۲۱۳). ظفير

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۲۹، ط. س. ج۳ ص۲۲۵. ظفير

وکان کل منهما فی مدة الرضاع. الخ (۱) وفیه ایضاً في البحر عن آخر المبسوط لو کانت ام البنات ارضعت احد البنین وام البنین ارضعت احدی البنات لم یکن للابن المرتضع من ام البنات ان یتزوج واحدة منهن الخ (۲). فقط

لږ شیدي هم باعث دحرمت درضاعت دي: **سوال**: (۱۴۳۲) زینب وایي چې زما خور حلیمه په زمانه دحمل کې ناجوړه اوپه همدې ناجوړۍ کې دهمدې لور سلیمه پیداسوه اوډاډیره کمزوري وه اوشیدې یې نه سوې راکشولی اوزما لور ددې څخه څومیاشتې مخکې پیدا سوې وه نوددې دپاره چې ددې شیدې راروانې سي نوما په خپلې لور هندې سره دوه واره ددې شیدې راکش کړې، چې په شیدو راکښته کیدو سره سلیمه چې ډیره کمزورې وه شیدې وچښې نودوه واره شیدې راوایستل سوې خودا معلومه نه ده چې ددې شیدې نس ته تللي دي اوکه نه؟ دحلیمه شیدې هندې ته صرف په غرض دراوستلو ورکول سوې وې نه درضاعت په غرض سره چې داسم درضاعت اطلاق باندې وسي آیاپه دې دوه واره شیدې راکشولو سره هنده اوسلیمه رضاعي خوندې سوې اوکه نه؟ اودا قول صرف دزینب دی اوددې مور هم ددې شاهدي ورکوي اوبل هیڅ شاهد ددې درضاعت نسته دزینب خاوند وایي چې زه صرف سماعي شاهدي چې مادخپلې ښځې څخه اوریدلې ده ورکوم نوآیا ددوو ښځو شاهدي په دې باره کې کافي ده؟ اودیو امام په نز درودلوڅه حد مقرر سته اوکه نه؟ اوپه وخت دضرورت کې دبل امام په مذهب دفتوٰی ورکولو اجازه سته اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق داحنافو مذهب دادې چې په موده درضاعت کې که لږ لبن یعنې شیدې دیوې ښځې هم درضیع نس ته ولاړې سي نوحرمت درضاعت به ثابتیږي اوکه په غالب ظن دېچې شیدې چښل ثابت سي یعنې معلوم سي نوحرمت درضاعت ثابتیږي نو په صورت مسئوله کې چې کله حلیمې شیدې په هندې سره راکشولي اودوه واره دحلیمې تې دتې رودونکې ماشوم په خوله کې ورکول سو، که څه هم غرض په دې شیدې چښل نه وو صرف راکشول وو دحلیمې تیان سپکول مقصد وو چې سلیمه کمه چې ضعیفه ده شیدې وچښلې سي، خوښکاره ده چې هندې کمې شیدې راکش کړې نو هغه یې خوبیرته ونه توکلې بلکې دا دهندې نس ته ولاړې اوچې کله دحلیمې په تیانوکې شیدې راغلې وې نوښکاره ده چې هنده دڅومیاشتو ماشومه ده اوپه غالب ظن سره دې شیدې وچښلې او دغالب ظن اعتبار په دې امورو کې سته ، ددې وجه څخه داحنافو

(۱) ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۲۱ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۲۱ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفیر

دمذهب موافق حرمت درضاعت ثابت دی: ویثبت به وان قل ان علم وصوله لجوفه من فمه اوانفقه لاغیر فلو التقم الحلمة ولم یدر ادخل اللبن فی حلقه ام لا لم یحرم (درمختار) قال العلامة الشامی قوله فلو التقم الخ تفریع على التقييد بقوله إن علم وفي القنية امرأة كانت تعطي ثديها صبية واشتهر ذلك بينهم ثم تقول لم يكن في ثديي لبن حين ألقمتها ثدي ولم يعلم ذلك إلا من جهتها جاز لابنها أن يتزوج بهذه الصبية ([1]) دشامی ددی روایت څخه معلومیږی چی دمرضعی په تی کی شیدی نه وی نوپه دغه وخت تی په خوله کی اخیستو سره حرمت درضاعت نه ثابتیږی اوکه تی دشیدو څخه ډك وی لکه چی په مسئوله صورت کی دی اودشیدو راکشونکی بچی قوی وی نو دشیدو نس ته په تلوکی هیڅ شبهه نه معلومیږی، خوکه داواقعه داسی دشیدو رودلو مسلمه نه وی نوبیا صرف ددوو ښځو په شاهدی سره حرمت درضاعت نه ثابتیږی. کمافی الدرالمختار والرضاع حجته حجة المال وهی شهادة عدلين اوعدل وعدلتين الخ قوله حجة ای دليل اثباته وهذا عند الانكار لانه يثبت بالاقرار مع الا صرار كمامر ([2])، وفی الشامی: أشار به إلى نفي قول الشافعي الخ وروي عن ابن عمر أنه قيل له إن ابن الزبير يقول لا بأس بالرضعة والرضعتين فقالوا قضاء الله خير من قضائه قال تعالى: وأمهاتكم اللاتي أرضعنكم وأخواتكم من الرضاعة ([3]) الخ (شامی، باب الرضاع). فقط

صحیح موده درضاعت څه ده؟ سوال: (۱۵۳۷) عموما انجلۍ ته ترپاوکم دوو کالو پوری اوهلك ته ترپاوباندی دوو کالو پوری شیدی ورکول کیږی خوشرعًا صحیح څه ده کم از کم اوزیات ترزیات ترڅو ورځو پوری بچی ته ښځه شیدی ورکولی سی بعضی ښځی دبچی دطاقت یا دخه بلي وجه څخه ترپنځو شپږو کالو پوری هم خپلي شیدی ورکوی نو شرعا جائزدی اوکه نه؟

جواب: موده درضاع دمذکر اودمونث ددواړو دپاره دوه کاله ده نو ددی څخه ترزیاتي مودی پوری بچی ته شیدی ورکول صحیح نه دی په درمختار کی دی: وحولان فقط عندهما وهو الاصح فتح وبه يفتى كما فى تصحيح القدورى عن العون الخ ولم يبح الارضاع بعد مدته لانه جزء آدمی والانتفاع به بغير ضرورة حرام الخ ([4]). فقط

رضاعت دیوې ښځی په شاهدی ثابتیږی او که نه؟ سوال: (۱۵۳۸) د زید خواښی وايي چی

([1]) ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر
([2]) ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۲۸ ، ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر
([3]) ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۲. ظفیر
([4]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۴ - ۵۵۵، ط.س. ج۳ ص۲۰۹. ظفیر

دزید دښځې دماما زوی ته ماشیدی ورکړیدی نودزید ښځې لره دده څخه پرده کول نه دی په کار اوس پوښتنه داده چې دیوی ښځې په شاهدی سره رضاعت ثابتیږی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: حجته حجة المال وهی شهادة عدلین اوعدل وعدلتین الخ. ([1]) ددی څخه معلومه سوه چې په صورت مسئوله کی رضاعت ثابت نه دی نوددی وجه څخه پرده ضروری ده. فقط

چې دکمی ښځې شیدی وچښل سوی نودهغې دلمسۍ سره واده جائزنه دی: **سوال**: (۱۵۳۹)

زید خپل زوی بکر ته دشیدو ورکولو دپاره زینب نومې ښځه ملازمه وساتله اوس دبکر عقد دمذکوره ښځې دلمسۍ سره مقرر سویدی نوپه داسی صورت کی چې کله دشیدو ورکولو معاوضه زید ادا کړه نو دبکر سره په عقد کی څه شرعی نقص خو نسته؟

جواب: بکر دزینب رضاعی زوی سو اودزینب لور دبکر رضاعی خور سوه او ددی لور یعنی دزینب لمسۍ دبکر رضاعی خورزه سوه اوپه حدیث شریف کی دی: یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب ([2]). نوچې څنګه دنسبی خورزی سره نکاح حرامه ده بقوله تعالٰی: وبنات الاخت ([3]). دارکم درضاعی خورزی سره هم نکاح حرامه ده اوپه معاوضه ورکولو سره په حرمت درضاعت کی هیڅ فرق نه راځی. فقط

زید چې کله دترور (عمه) شیدی وچښلې نو ددی دیوې لور سره هم نکاح نسی کولی: **سوال**:

(۱۵۴۰) زید اوبکر دواړه سکه ورونه دی اوزید دبکر څخه مشردی زید دخپلې ترور شیدی چښلی دی نودزید دهغه انجلۍ سره چې ده دهغه سره شیدی چښلی دی نکاح جائز ده اوکه نه؟ اوکه ددی انجلۍ سره نه ده جائز نودهغه دوو انجونو سره چې کمی نوری دی چې دکمو سره زید شیدی نه دی چښلی نکاح جائزده اوکه نه؟ اودبکر سره یې خو نکاح کیدی سی؟

جواب: زید چې دکمی ښځې شیدی چښلی دی ددی ښځې ټولې لوڼې پرزید حرامی دی که ددی انجلۍ سره زید شیدی چښلی وی اوکه نه وی چښلی ([4]) اودبکر نکاح په دی دری واړو انجونو کی دهری یوی سره جائزده خوچې دیوی سره یې نکاح وکړه نو ددی په

([1]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۲۸ ، ط.س. ج۳ ص ۲۲۴. ظفیر

([2]) وګوری الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۷ ط.س. ج۳ ص۲۱۳. ظفیر

([3]) سورة النساء رکوع ۴. ظفیر

([4]) ویثبت به الخ امومیة المرضعة للرضیع ویثبت ابوة زوج مرضعه اذا کان لبنها منه له الخ فیحرم منه ای بسببه ما یحرم من النسب رواه الشیخان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۷ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۲، ۲۱۳). ظفیر

وجود کی دبلی دیوی خور سره هم نکاح نه سی کولی. فقط

درضاعی پلار دهغه زوی سره چی دبلی ښځی څخه دی دخپلی لور واده کولی سی اوکه نه؟

سوال: (۱۵۴۱) فخر الدین دمریم بی بی نومي انجلۍ رضاعی پلار دی اودفخر الدین دبلی ښځی څخه چی مرضعه نه ده یو زوی دمحمد په نوم دی اودمریم چی تی یي رودلی دی یوه لور نور دبی بی په نوم ده نوعند الشرع دمحمد نکاح دنوربی بی سره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: ۱\. په صورت مسئوله کی دلبن الفحل سره چی کم تعلق دتحریم دی هغه نه پیدا کیږی نه پردی واحده دواړه جمع سویدی نوپه دی وجه داتحریم نه دی نو دنور بی بي نکاح دمحمد سره صحیح ده.

جواب: ۲\. چی فخر الدین دمریم بی بی رضاعی پلار سو نومحمد چی دفخر الدین دبلی ښځی زوی دی نودمریم بی بی میریزی رضاعی ورور سو اودمریم بی بی لور دمحمد خورزه سوه نوپه قاعده د: یحرم من الرضاع مایحرم من النسب ([1]). نکاح دمحمد دمریم بی بی دلور سره ناجائزده اول جواب صحیح نه دی په درمختار کی دی: ویثبت ابوة زوج مرضعة اذا کان لبنها منه ([2]) الخ. والله اعلم

یوی ښځی چی کله شیدی ورکړلی نو ددوهمی ښځی داولاد سره هم حرمت ثابتیږی: **سوال:** (۱۵۴۲) هدایت خان اوعنایت خان دوه وروڼه دی اودعنایت خان دوی ښځی دی چی یوه دمنهور والا اوبله داټکا والا ده چی ددواړو ښځو بي یوه لور وسوه اودهدایت خان یوزوی دی دهدایت خان زوی دعنایت خان دمنهور والا ښځی شیدی وچښلی نودهدایت خان دزوی دعنایت خان دهغه لور سره چی داټکا والا دښځی څخه ده نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی: ویثبت به وان قل الخ امومیة المرضعة للرضیع ویثبت ابوة زوج مرضعة اذا کان لبنها منه له الخ ([3]) ددی عبارت څخه واضحه سوه چی دمرضعی خاوند یعنی عنایت خان دهدایت خان دزوی رضاعی پلار دی نوپه قاعده د: یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب ([4]). دعنایت خان ددوهمی ښځی لور هم دهدایت خان پر ځان حرامه سوه او نکاح دهدایت خان د زوی د عنایت خان د هغه لور سره نه ده صحیح چی

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۷ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر
([2]) ایضا ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر
([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع. ج۲ ص ۵۵۷ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۲. ظفیر
([4]) ایضا ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفیر

داټکا والا دښځی څخه ده. فقط

دکمي انجلۍ په خوله کی چی یوی ښځی خپلی شیدی واچولی ددی او ددی دزوی واده جائز نه دي: **سوال**: (۱۵۴۳\) دهندی یوزوی دی زید اویوه لور خالده ده هنده دخپلی لور خالده دشیدو درضاعت په زمانه کی زینب نومي رضیعه په تي کی واچوله چی دزینب عمر دوه کاله وو دزینب اودزید نکاح شرعا جائزده اوکه نه؟

جواب: چی کله دزینب په خوله کی هندې دخپلو تیانو شیدی واچولي که څه هم ځاځکی دوه ځاځکی وی دزینب حلق اونس ته ولاړی نوزینب دهندی رضاعی لور سوه اودزید رضاعی خور نودزید دزینب سره نکاح صحیح نه ده. لانه یحرم من الرضاع مایحرم من النسب ([1]). فقط

یوی انجلی په خوله کی تی ونیوی خو دشیدو دتللو یقین نسته نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۵۴۴\) زینب نومي ښځی دعظیمی نومي ښځی لور ته په خطا خپل تی په خوله کی ورکی تریوه منته پوری یي په خوله کی نیولی وو خوشیدی راکښته نه سوي، انجلۍ تی ښه نه وو رودلی، نوچی کله زینب وکتل چی زما لور نه ده دغه وخت یي تی ځینی لیری کی ترکمه چی دزینب بچی دکال څخه کم وی نو تردغه وخته پوری شیدی زیاتي وی او بیا کمیږی دغه وخت دزینب لور دپاوکم دوه کالو وه تردی چی دکال څخه وروسته دزینب بچی تی په خوله کی ښه ډیره شیبه وښوروی نو بیا یې شیدی راځی څلور کاله وروسته دزینب زوی وسو نوددی انجلۍ نکاح ددی هلك سره وسوه، نوآیا دانکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: په شك حرمت درضاعت نه ثابتیږی نوکه شیدی په نس کی تلل دعظیمه دلور مشکوك اومشتبه وی، اوپه قرائنو سره دامعلومیږی چی دزینب په تیانوکی په دومره وخت کی شیدی نه راځی نودا انجلۍ دزینب رضاعی لور نه سوه اونکاح دزینب دزوی سره ددی انجلۍ صحیح ده. هکذا فی الدرالمختار والشامی ([2]). فقط

بچی به چی څنګه شیدی چښلي نوقی کولي به یي نو څه حکم دی؟ سوال: (۱۵۴۵\) زید

([1]) ویثبت به الخ وان قل ان علم وصوله لجوفه من فمه اوانفه الخ فیحرم منه ای بسبب مایحرم من النسب رواه الشیخان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۲ – ۵۵۷، ط.س. ج۳ ص ۲۱۲). ظفیر

([2]) فلو التقم الحملة ولم یدر ادخل اللبن فی حلقه ام لالم یحرم لان فی المائع شکا (درمختار) وفي القنية امرأة كانت تعطي ثديها صبية واشتهر ذلك بينهم ثم تقول لم يكن في ثديي لبن حين ألقمتها ثدي ولم يعلم ذلك إلا من جهتها جاز لابنها أن يتزوج بهذه الصبية اه وفي الفتح : لو أدخلت الحلمة في في الصبي وشكت في الارتضاع لا تثبت الحرمة بالشك الخ (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۲، ۵۵۷ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۲). ظفیر

اوعمر سکه ورونه دعیال او اولاد پلرونه دی، دزید زوی ته چی په عمر دځلورو پنځو میاشتو وو په سبب دنه کیدو دشیدو دښځی، زید ددی کار کوشش وکی چی دده پالنه دبکر دښځی په شیدو وسی چی ددی یوه لور همزولی دزید دزوی وه، دزید زوی قدرةً دیته بي اراده نه کوله لکه متنفر وو چی کله دزید دزوی خوله دبکر دښځی دتیانو سره ولګول سوه اویوڅو څاڅکی ارادةً دده په خوله کی واچول سو نوهلك استفراق اوشیدی یي توی کړلی داسی څو واره وسوه چی کله به ده ته په زوره شیدی ورکول کیدې نوده به شیدی توی کړی اوس دبکر دوهمه لور پیداسوه نوآیا دزید دمذکوره زوی عقد دبکر دبلی لور سره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی حرمت درضاعت ثابت دی اودزید زوی دبکر دښځی رضاعی زوی سو دبکر اودده دښځی ټول اولاد ددی ماشوم رضاعی ورونه خوندی سوی نوددی وجه څخه دبکر دښځی دیوی لور نکاح دزید دزوی سره صحیح نه ده لکه چی دکتابونو دفقه دعبارت څخه مستفاد دی: ویثبت به وان قل ان علم وصوله بجوفه من فمه اوانفه الخ درمختار وایضا فیه هو مص من ثدی اٰدمیة الخ والحق بالمص الوجود والسعوط الخ وفی ردالمحتار ثم اجاب بان المراد بالمص الوصول الی الجوف من المنفذین الخ وفی المصباح الوجود بفتح الواو الدواء یصب فی الحلق والسعوط کرسول دواء یصب فی الانف ([1]) الخ ص۴۰۳ شامی ج۲، وفی الدرالمختار: ولاحل بین رضیعی امراة لکونهما اخوین وان اختلف الزمن والاب ولا حل بین الرضیعة وولد مرضعتها ای اللتی ارضعتها الخ ([2]). فقط

دخالد کم ورور چی دترور (عمه) شیدې نه دی چښلی دده نکاح دترور دلور سره کیدی سی:

سوال: (۱۵۴۶) زید اوهنده سکه ورور اوخور دی هنده دخپل زوی بکر سره دزید زوی ته شیدی ورکړلی دخالد دوی دری خوندی دی اوس دبکر نکاح دخالد دخور سره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دبکر نکاح دخالد دخور سره چی چا دهندی شیدی نه دی چښلی صحیح ده. کما فی الدرالمختار وتحل اخت رضاعًا ([3]) الخ. خودخالد نکاح دهندی دیوی لور سره هم نه سی کیدی. فقط

دشیدو رودونکی ورور دخور سره رضاعت نه ثابتیری او نکاح جائزده: **سوال**: (۱۵۴۷) هنده

([1]) وګوری ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۲. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۲۱ ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۲۱ ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفیر

اوسلمٰی دواړه سکه خوندی دی اودسلمٰی دری زامن دی دوه لوی اویو کوچنی اودهندی دوې انجلۍ دی یوه لویه اوبله وړه، سلمیٰ دهندی وړی لور ته شیدی ورکړی دی اوهندی دسلمٰی کشر زوی ته شیدی ورکړیدی نوپه دی حالت کی دهندی کشره لور دسلمٰی دکشر زوی رضاعی خور سوه آیا دسلمٰی په دوو مخکنیو مشرانو هلکانو کی دیوه سرې نکاح دهندی دمخکنی مشری انجلۍ سره جائزده اوکه نه؟

جواب: قاعده داده چی دمرضعه تمام اولاد درضیع رضاعی ورونه اوخوندی کیږی کما فی الشعر: ازجانب شیرده همه خویش الخ نوچی کله دهندی کشری لور دسلمٰی شیدی وچښلی نودسلمٰی تمام اولاد یعنی دری کوچنی زامن دهندی ددی لور رضاعی ورونه سوه اوچی دسلمٰی کشری زوی دهندی شیدی چښلی دی نودهندی دواړی لوني دکشر زوی دسلمٰی رضاعی خوندی سوی نودهندی دکشری لور دسلمٰی دیوه زوی سره نکاح نه ده صحیح اودسلمٰی دکشر زوی دهندی دیوه لور سره نکاح نه ده صحیح خودسلمٰی مشران دوه زامن دهندی دمشری لور رضاعی ورونه نه دی، په دی دواړو هلکانو کی دیوه سره دهندی دمشری لور نکاح صحیح ده کما فی الدرالمختار: وتحل اخت اخیه رضاعًا (۱). فقط

دزید نیکه دده درضاعی مور سره نکاح کولی سي: **سوال**: (۱۵۴۸) زید دهندی شیدی وچښلی اوس دزید نیکه دهندی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید دنیکه دهندی سره نکاح جائزده اوهنده دزید رضاعی مور ده خو دزید دپلار اودنیکه ددی سره نکاح کول صحیح دی. کمافی الشامی: یحل لها ابو اخیها واخو ابنها وجدا بنها الخ (۲). فقط

چی کله دزید خواښی دده لور ته شیدی ورکړی نو آیا دښځی دمرګ څخه وروسته دزید واده دخوښینی سره صحیح به وی: **سوال**: (۱۵۴۹) دزید ښځه هنده مړه سوه اودمذکور زید څخه دی یوه شیدی رودونکی لور پریښووله دهندی مور دی انجلۍ ته خپلی شیدی ورکړلی اوس نومذکوره زید دخپلی سکه خوښینی سره نکاح کولی سی؟ اودا دهنده رضاعی خور خو به نه وی چی په کمه زمانه کی انا لمسی ته شیدی ورکولي دزید د خوښینی ددوو نیمو کالو څخه زیات عمر وو؟

جواب: دهندی لور ته چی کله دهندی مور په حالت دشیدی رودلو کی شیدی ورکړلی نو دا انجلۍ دهنده دمور رضاعی لورسوه اودزید دخوښینی رضاعی خور سوه نودزید دلور

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۲۱ ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفیر
(۲) ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۲۰ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۲. ظفیر

هم رضاعی خور سوه وروسته په دی صورت کی دزید نکاح ددی دخوښینی سره روا ده کما فی الدر المختار (۱). فقط

کوچنی هلک شیدی وچښلی نو آیا دده دورور داولاد سره دشیدی ورکوونکی ښځی دزوی واده جائز دی: **سوال**: (۱۵۵۰) زما مور زما دماما کشر زوی ته شیدی ورکړی دی دغه وخت دماما دمشر زوی لور کونډه ده نوددی سره زما نکاح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: دماما کشر زوی چی هغه ستا دمورشیدی چښلی وی نوهغه خوستا رضاعی ورور سو اودده اولاد پرتا حرام دی خودماما مشر زوی چی هغه شیدی نه دی چښلی نودهغه دلور سره ستا نکاح صحیح (۲) ده. فقط

دخاوند والا زناکاری درضاعی زوی سره دزانی دلمسی واده صحیح دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۵۵۱) زید دهندی خاوند والا سره زنا وکړه دهندی یوه لور پیدا سوه چی په دی باره کی هندی اقرار وکی چی دادزید لور ده اوهم په دغه وار هنده دزید سکه ورور دبکر لمسی (دلور زوی) خالد ته شیدی ورکړلی نوپه دی صورت کی دعائشی نکاح چی دزید لمسۍ (دزوی لور) ده اودبکر لمسی (دلور لور) چی دخالد دترور (خاله) لور ده دخالد سره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کی دی: الولد للفراش وللعاهر الحجر (۳). نوددی وجه څخه دښځی خاوند داری چی کم اولادوی نوهغه به دخاوند څخه ثابت النسب وی اودښځی په دی ویلو سره چی دادزید لور ده نسب ددی دخاوند دهندی څخه نه منتفی کیږی نودزید څخه نسب ددی انجلۍ ثابت نه دی اوزید دخالد رضاعی پلار نه دی نوددی وجه څخه دخالد نکاح دمسماة عائشه دزید دلمسۍ سره صحیح ده ولي چی په دوی کی څه وجه دحرمت نسته ځکه چی دزنا په لبن سره اولاً حرمت درضاعت ثابتیدل مختلف فیه دی، او شامی وایي چی زنا وجه دعدم دحرمت ده اوثانیا چی کله دهندی دلور نسب شرعًا دهندی دخاوند څخه ثابت دی نولبن دزنا څخه کیدل هم متحقق نه سو (۴). فقط

---

(۱) وقس علیه اخت ابنه وبنته الخ فهولاء من الرضاع حلال للرجال (درمختار) بان تقول انما حرمت علیه اخت ابنه وبنته نسبا لکونها بنته اوبنت امراته وهذا المعنٰی مفقود فی الرضاء (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۹. ط. س. ج۳ ص۲۱۵). ظفیر

(۲) ددی دپاره ددی څخه درضاعت رشته قائمه نه ده. ویثبت به الخ وان قل الخ امومیة المرضعة للرضیع ویثبت ابوة زوج مرضعة (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۲، ۵۵۷. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲). ظفیر

(۳) مشکوٰة شریف. ظفیر

(۴) والوطؤ بشبهة کالحلال قیل وکذا الزناء والاوجه لا فتح (درمختار) وذالك حیث قال ولبن الزنا کالحلال فإذا أرضعت به بنتا حرمت علی الزاني وآبائه وأبنائه وإن سفلوا وفي التجنیس عن الجرجاني ولعم الزاني التزوج =

په مسئوله صورت کی څه حکم دی؟ سوال: (۱۵۵۲) دمحمد لور په حالت درضاعت کی دمحمد داکا دښځی شیدی وچښلی داکا دزوی سره یعنی دمحمد داکا زوی علی محمد او دمحمد لور بختیار دواړو داکا دښځی چی دعلی محمد مور ده شیدی وچښلی چی دهغې نوم راجن ده، اتفاقا ددی سره میان محمد دراجن سره چی کمه داکا ښځه وه نکاح وکړه چی دهغه دوجه څخه میان محمد دبختیار اودعلی محمد پلارسو، آیا دعلی محمد نکاح دبختیار دکشری خور سره جائزده اوکه نه؟

جواب: دعلی محمد نکاح دبختیار دکشری خورسره چی دمحمد دمخکی ښځی څخه وی صحیح ده: لقول الفقهآء وتحل اخت اخیه رضاعًا وکذا اخت اخته ([1]). فقط

چی کم هلک ته یې شیدی ورکړی نو دده دورور سره دمرضعه دلور واده جائزدی: **سوال**: (۱۵۵۳) دبکر ښځی دزید زوی ته شیدی ورکړی په بل وار دبکر زوی اودزید لور پیدا سوه آیا ددی دواړو نکاح په خپل مینځ کی جائزده اوکه نه؟

جواب: په بل وار چی دزید لور اودبکر زوی پیداسو نو ددوی دواړو نکاح په خپل مینځ کی صحیح ده. کما فی کتب الفقه وتحل اخت اخیه رضاعًا الخ. درمختار ([2]). فقط

چی دتی څخه اوبه خولی ته ولاړی سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۵۵۴) دبکر مور زید ته دیوکال په عمر کی خپل تی په خوله کي ورکی چی کله زید تی رامچ کی نودبکر دمور په تی کی سوی پیدا سو دی زید جلا کی اوتی ته یي زور ورکی نو ددننه څخه اوبه را ووتلی ددی اودزید حلق ته تللی یا نه تللی دبکر مور ته څه علم نسته په دی صورت کی دبکر مور دزید رضاعی مور کیدی سی دزید دلور نکاح دبکر سره جائزده اوکه نه؟

جواب: په باب الرضاع ددرمختار کی دی: هومص من ثدی اٰدمیة ولوبکرا اومیتة او آئسة الخ ([3]). اوپه عالمگیری کی دی: دخل فی فم الصبی من الثدی مائع لونه اصفر تثبت حرمة الرضاع لانه لبن تغیر لونه ([4]). اوپه شامی کی دی: وفي القنية امرأة كانت تعطي ثديها صبية واشتهر ذلك بينهم ثم تقول لم يكن في ثديي لبن حين ألقمتها ثدي ولم يعلم ذلك إلا من جهتها جاز لابنها أن يتزوج بهذه الصبية ([5]) الخ وفی الفتح لو ادخلت

= بها کالمولودة من الزاني لأنه لم يثبت نسبها من الزاني الخ (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۲۵ . ۵۲۲. ط.س. ج۳ ص۲۱۷). ظفیر

[1] الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۲۱، ط.س. ج۳ ص۲۱۷. ظفیر

[2] ایضا ، ط.س. ج۳ ص۲۱۷. ظفیر

[3] الدرالمختار کتاب الرضاع ج۲ ص۲۱۲. ط.س. ج۳ ص۲۰۹. ظفیر

[4] عالمگیری مصری کتاب الرضاع ج۱ ص۲۲۲. ط. ماجدیه ج۳ ص۳۴۴. ظفیر

[5] ردالمحتار المعروف بالشامی ج۲ ص ۵۵۲ کتاب الرضاع . ظفیر

الحلمة فی فم الصبی وشکت فی الارتضاع لا تثبت الحرمة بالشك الخ [۱]. فقط

دقنیه دروایت اودفتح القدیر څخه دامعلومیږی چی که ښځه دا ووایي چی زما په سینه کی دغه وخت شیدی نه وی اودبچی حلق ته شیدی تلل متحقق نه وی نوپه دی صورت کی دزید دلور نکاح دبکر سره صحیح ده. فقط

درضاعي ترور (عمه) سره نکاح جائز ده اوکه نه؟ سوال: (۱۵۵۵) دزیددوی ښځی دی دیوی بکر شیدی وچښلی اودبلی زبیدی په داسی حالت کی دبکر دزوی نکاح دزبیدی سره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی زید دبکر او دزبیدی ددواړو رضاعی پلارسو اودواړه رضاعی خور او ورور سوه دپلار څخه نوزبیده دبکر دزوی رضاعی عمه سوه نوددی وجه څخه ددی دواړو نکاح صحیح نه ده په درمختارکی دی: ویثبت ابوة زوج مرضعة اذا کان لبنها منه له [۲] الخ. فقط

چی کله یي دانا شیدی وچښلی نودترور دلور سره نکاح جائز نه ده: سوال: (۱۵۵۶) زید دخپلی انا شیدی په داسی وخت کی وچښلی چی کله ددی دانا زوی دپاو باندی دوو کالو وو اودچښلو داحالت دی چی شیدی وچی سوی وی زید دخپلی انا (پلار مور) تی ورودی نوشیدی لږ راووتلی اوصرف دری څلور ورځی یي شیدی ورودلي اوس زید دا غواړی چی دخپلی ترور (عمه) دلور سره چی دهغې نوم هنده ده واده وکړی نودا عقد کیدی سی اوکه نه؟ که نه سی کیدی نوڅه تدبیر دی اوکه واده وکړی نوګناه کبیره ده اوکه صغیره؟

جواب: زید چی کله په موده درضاعت کی دخپلی انا (دپلار مور) شیدی وچښلی که څه هم چی یودوه څاڅکی وی نوزید دخپلی انا رضاعی زوی سو اودهندی رضاعی ورور سو نودهندی لور دده رضاعی خورزه سوه او درضاعی خورزې په شان دنسبی خورزی نکاح قطعی حرامه ده [۳] اوګناه کبیره ده داسی دی لکه چی سړی دخپلی مور خور او دلور سره نکاح وکړی والعیاذ بالله تعالٰی. نوددی وجه څخه دانکاح بالکل نه سی کیدی اوڅه حیله اوتدبیر ددی نکاح دحلالیدو نسته. فقط

چی کم ماشوم دانا (دپلار دمور) تی ورودی نودده نکاح داکا دلورسره جائزده اوکه نه؟ سوال:

---

[۱] ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۲ ط.س. ج۳ ص ۲۱۲. ظفیر

[۲] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۷ ، ط.س. ج۳ ص۲۱۲. ظفیر

[۳] ویثبت به وان قل الخ امومیة المرضعة للرضیع الخ فیحرم منه ای بسببه مایحرم من النسب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۲ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۲). ظفیر

(۱۵۵۷) زید ددوو یا دپاوکم دوو کالو وو چی ده دخپلی انا تی رودل شروع کړل اوتر دوو درو کالو پوری یې هره ورځ ورودی اودده دانا عمر تردغه وخته پوری اویا اتیا کاله وو، چی ددی په تیانو کی چا تردغه وخته شیدی وتل نه وه لیدلی اونه دی دچا په مخکی ښکاره کړی وه چی دغه وخت زماپه تیانوکی شیدی وی اوس انا مړه سویده کنې نو ددی ښخه به صفا معلومه سوی وای نوپه دی صورت کی زید دخپلی سکه اکا دلور سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: که دانا ښخه معلومه سوی وی اودې ویلی وی چی زما په سینه کی دغه وخت شیدی نه وی نوددی قول معتبر وو خو چی کله ددی انکار ثابت نه دی اوسینه یې مسلسل په خوله اخیستل اورودل متحقق دی نواحتیاط په دی کی دی چی دخپل اکا دلور سره چی کم دده رضاعی وریره ده نکاح دی ونه کړی خودقاعدی مطابق چی دشیدو چښلو لیدلو اوشیدو راتللو څوك شاهد نسته اورضاعت بغیر ددوو شاهدانو ښخه نه ثابتیږی نوددی وجه ښخه دده دخپل داکا دلور سره نکاح صحیح (۱) ده حکم همداسی دی اواحتیاط په اول صورت کی دی. فقط

مسائل درضاعت: **سوال**: (۱۵۵۸) ښځه که بی درضامندی دخاوند ښخه شیدی ورکړی نو صحیح دی اوکه نه؟

جواب: ښځی لره نه دی په کار چی بی داجازته دخاوند ښخه دچا بچی ته شیدی ورکړی خو که وریې کړی نوحرمت درضاعت به ثابت وی. (۲) فقط

دشک په صورت کی به حرمت ثابت وی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۵۵۹) که رضاعت مشکوك وی نوڅه حکم دی؟

جواب: که په رضاعت کی شك وی نوحرمت درضاعت نه ثابتیږی. (۳) کذا فی الدر المختار.

دامام شافعی رحمہ اللہ په نزد موده درضاعت: **سوال**: (۱۵۶۰) دامام شافعی په نزد موده درضاعت څومره ده؟

جواب: موده درضاعت دوه کاله یادوه نیم کاله ده علی اختلاف القولین (او دامام شافعی

(۱) فلو التقم الحلمة ولم يدر ادخل اللبن فی حلقه ام لا لم يحرم لان فی المائع شكا (درمختار) وفی الفتح لو ادخلت الحلمة فی فیّ الصبی وشكت فی الارتضاع لاتثبت الحرمة بالشك (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۶، ۵۵۷. ط.س. ج۳ ص ۲۱۲). ظفیر

(۲) يكره للمرأة ان ترضع صبيا بلا اذن زوجها الا اذا خافت هلاكه (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۷، ط.س. ج۳ ص۲۱۳). ظفیر

(۳) فلو التقم الحلمة ولم يدر ادخل اللبن فی حلقه ام لا لم يحرم (درمختار) لوادخلت الحلمة فی فم الصبی وشكت فی الارتضاع لاتثبت الحرمة بالشك (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۶، ۵۵۷. ط.س. ج۳ ص۲۱۲). ظفیر

په نزد موده درضاعت صرف دوه كاله ده (۱). ظفير

دشهادت دنه كيدو په صورت كي: **سوال**: (۱۵۲۱) چي دچا دپاره شهادت نه وي نوهغه مشكوك دي اوكه نه؟

جواب: كه درضاعت شهادت نه وي نوحرمت درضاعت به ثابت نه وي (۲). فقط

چي چا دانا (دمور دمور) شيدي وچښلي نودده واده دماما دلور سره جائزدي اوكه نه؟ سوال: (۱۵۲۲) يوسړي دخپلي انا شيدې يوځاى دخپلي همزولي خاله سره چښلي دي آيا دا سړي دخپل ماما دلور سره نكاح كولي سي اوكه نه؟ ماما په عمركي زيات دي يعني درشتې درضاع څخه مخكي پيدادي اوترور چي دده رضاعي خورده دا دخپل ورور څخه په دريم نمبر كي ده.

جواب: دشريعت قاعده داده چي دكمي ښځي شيدي تي رودونكي بچي وروى نو ددي ښځي تمام اولاد ددي بچي رضاعي ورونه اوخوندي سوى اودمخكي او وروسته اعتبار نسته ټول اولاد دمرضعة ددي رضيع ماشوم رضاعي ورونه اوخوندي دي اوپه دي اعتبار دده نسبي مور هم دده رضاعي خورسوه اوماما اوخاله ټول يي رضاعي ورور خور سوه نو دماما دلور سره ددي رضيع نكاح صحيح نه ده: ولاحل بين رضيعي امراة لكونهما اخوين وان اختلف الزمن والاب ولاحل بين الرضيعة وولد مرضعتها الخ (۳)، (درمختار) دجمله داختلف الزمن څخه داصفا ثابته ده چي دمرضعي مخكني او وروستني اولاد ټول درضيع ورونه اوخوندي رضاعي دي. فقط

څوک چي دښځي شيدي دناجوړي په وجه وچښي نوڅه حكم دي؟ سوال: (۱۵۲۳) يو سړي ته څه ناجوړي پيداسوه چي بغير دښځي دشيدو څخه نه سی ښه كيدی نوپه دي حالت كي كه داسړي دخپلي ښځي شيدي وچښي نوجائز اوحلال دي اوكه نه حرام؟ اوپه شيدي چښلو سره به خو په نكاح كي څه فرق نه راځي؟

جواب: مص رجل ثدي زوجته لم تحرم (۴). يوسړي دخپلي ښځي سينه ورودله اوشيدي يي وچښلي نوپرده ښځه حرامه نه ده په درمختار باب الرضاع كي دي: وفيها ايضا ولا يبح الارضاع بعد مدته (۵). يعني مباح نه دي شيدي چښل وروسته دمودي درضاع څخه

(۱) ثم مدة الرضاع ثلثون شهراً عندابي حنيفة وقالا سنتان وهوقول الشافعي (هدايه كتاب الرضاع ج۲ ص۳۲۹).
(۲) وانما يثبت بشهادة رجلين اورجل وامراتين الخ (هدايه كتاب الرضاع ج۲ ص۳۳۳). ظفير
(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۲۱ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۷. ظفير
(۴) ايضا ص ۵۲۹ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۲۲۵. ظفير
(۵) ايضا ج۲ ص ۵۵۵. ظفير

یعنی په زمانه دشیدو چنبلو کی، ددی دوارو روایتونو څخه دامعلومه سوه چی دخپلی ښځی شیدی چنبل سړی ته جائزنه دی اودا چی دشیدو چنبلو سره پرده دده ښځه حرامه نه ده اوددواء دپاره ددی استعمال صحیح دی چی په دی کی شفاء په قول دحاذق طبیب مسلمان ثابت وی اوبله دواء ددی قائم مقام نه وی [1]. فقط

چی کمی انجلۍ ددوو کالو اودلسو میاشتو په موده کی شیدی وچنبلی نو دهغه سره واده جائزدی: **سوال**: (۱۵۲۴) زید دشپږو میاشتو په عمر کی دهندی شیدی چنبلی وی اویوه انجلۍ کریمه هم ددوو کالو اودلسو میاشتوپه عمرکی دهندی شیدی چنبلی وی نودزید دکریمه سره عقد دنکاح صحیح دی اوکه نه؟

جواب: موده درضاعت دوه اویا دوه نیم کاله ده دامام ابوحنیفه مذهب اولی دی [2] او دصاحبینو اودنورو امامانو مذهب اولنی دی په هرحال ددوو نیمو کالو څخه په زیات عمر کی چی یوماشوم دکمی ښځی شیدی وچنبلی نوحرمت درضاعت به ثابت نه وی [3] نو په دی صورت کی دزید نکاح دکریمی سره صحیح ده. فقط

درضاعی پلار او درضاعی دبښځی متعلق دابن الهمام قول: **سوال**: (۱۵۲۵) حلیله دپلار او دابن رضاعی ته فقهاء حرام وایي لکه چی په تمامو کتابونو دفقه کی ذکردی اوصاحب دفتح القدیر ددی خلاف لیکی لکه چی په فتح القدیر کی دی: ومقتضى الحديث أن من كانت أبا من الرضاعة أو بنتا أو أختا أو بنت أخ الخ تحرم فإثبات كل حليلة من الأب والابن من الرضاعة قول بلا دليل بل الدليل يفيد حلها وهو قيد الأصلاب في الآية.

جواب: قوله: ما يحرم من النسب معناه أن الحرمة بسبب الرضاع معتبرة بحرمة النسب فشمل زوجة الابن والأب من الرضاع لأنها حرام بسبب النسب فكذا بسبب الرضاع وهو قول أكثر أهل العلم كذا في المبسوط بحر، وقد استشكل في الفتح الاستدلال على تحريمها بالحديث لأن حرمتها بسبب الصهرية لا النسب الخ شامی [4].

ددی عبارت اوداركم دنورو كتابونو دفقه څخه حرمت دښځی دپلار او دزوی رضاعی معلومیږی اومقتضی دقرآنکریم دنص: ولاتنکحوا مانکح اباءکم الایه (سورة النسآء:

---

[1] ولا يجوز التداوي بالمحرم الخ (درمختار) قيل يرخص اذا علم فيه الشفاء ولم يعلم دواء اٰخر كما رخص للعطشان وعليه الفتوٰى (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۵. ط.س. ج۳ ص ۵۱۱). ظفير

[2] هو حولان ونصف عنده حولان فقط عندهما هو الاصح (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۵۴ ، ط.س. ج۳ ص ۲۰۹). ظفير

[3] ويثبت التحريم في المدة فقط (درمختار) اما بعدها فانه لا يوجب التحريم (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۵ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۱). ظفير

[4] ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص ۵۵۷ ، ط.س. ج۳ ص ۲۱۳. ظفير

رکوع ۴) هم دادی، باقی دامام ابن الهمام په استدلال بالحدیث کی استشکال کول دقبیلی دبحث دمحققینو څخه دی چی په بعضو دلائلوکی یې دوی فرمایي نوپه دی سره داصل مسئلې ابطال نه لازمیږی ددی څخه علاوه چی دزیاتو اهل علم قول هم دادی اوفقهاء عموماً محرمات نسبیه اوصهریه رضاعا هم حرام وایي نوپه دی صورت کی ارجح اواحوط په باب دحرمت کی قول داکثرو فقهاؤ دی. قال فی الدرالمختار مما مر تحریمه نسبا ورضاعًا (١) الا ما استثنٰی فی بابه. فقط

دښځی دشیدو چښلو څه حکم دی؟ سوال: (١٥٢٦) زید چی صاحب اولاد دی دخپلی ښځی شیدی یې قصداً وچښلی په شرعی مقرره ورځو کی یعنی په ورځو درضاعت کی یعنی په دوو کالوکی دننه نوپه دی صورت کی پرزید به دده ښځه حرامه وی اوکه نه؟ اودا شیدی دزید دپاره حلالي وي اوکه حرامي؟

جواب: زید چی کم صاحب اولاد دی ده ته دا ویل چی ده په موده درضاعت کی شیدی وچښلی داغلطه ده په موده درضاعت کی دشیدوچښلو دامعنٰی ده چی دشیدو چښونکی بچی وی اودده عمر دوه کاله یا ددوه نیم کاله څخه کم وی، غرض داچی زید صاحب اولادکه دخپلې ښځی شیدی وچښلی که قصداً وي اوکه په خطاء دده ښځه پرده حرامه نه ده خوکه قصداً یې چښلی وی نوګنهګار دی اوتوبه دی وکاږی ځکه چی داجزء دانسان دی اوپه درمختار کی دی: مص رجل ثدی امراته لم تحرم الخ (٢). (ترجمه) چی چا دخپلی ښځی شیدی وچښلی نودده ښځه پرده حرامه نه سوه. ولم یبح الارضاع بعد مدته لانه جزء ادمی والانتفاع به بغیر ضرورة حرام الخ (٣). باب الرضاع درمختار. فقط

زوم ته یې وویل ماتاته شیدی درکړیدی نوڅه حکم دی؟ سوال: (١٥٢٧) دزید خواښی وایي چی ماتاته په کوچنی والی کی شیدی درکړیدی نوزید دخپل ځان سره یوسړی بوتلی بیا یې پوښتنه ځینی وکړه چی رښتیا ووایه، ده بیا وویل، چی کله زید منکوحه بیلول وغوښتل نوخواښی انکار وکی چی ماخو دغصی په حالت کی ویلی وه اودروغ می ویلی وه اودزید مور وایي چی ماته هیڅ پته نسته چی کله یې ورته شیدی ورکړی وی نواوس رضاعت ثابت دی اوکه نه؟

جواب: په کتابونو دفقه کی لیکلی دی چی بغیر ددوو سړیانو یادیوه سړی او ددوو ښځو دشاهدی څخه حرمت رضاعت نه ثابتیږی نوپه صورت مسئوله کی شرعی حجة درضاعت

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ص ۲۳۸ ج۲. ط.س. ج۳ ص ۱۳. ظفیر
(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرضیع ج۲ ص ۵۲۹ ، ط.س. ج۳ ص ۲۲۵. ظفیر
(٣) ایضا ج۲ ص ۵۵۵. ط.س. ج۳ ص ۲۱۱. ظفیر

نسته نوددی وجه حکم دجلا کولو دزوجینو به نه کیږی [1]. فقط

قد تم الجزء الثامن من فتاوٰی دارالعلوم دیوبند

کمپوزنګ

المولوي الحافظ نور احمد النوراني الحقاني

العلم کمپیوټرز ، کوئټه

تاريخ الاختتام

الاحد، ٢٤ ربيع الثاني، ١٤٣٠



[1] والرضاع حجته حجة المال وهی شهادة عدلین اوعدل وعدلتین لکن لایقع الفرقة الا بتفریق القاضی لتضمها حق العبد (درمختار) وما فی شرح الرهبانیه عن النتف من انه لا تقبل شهادة المرضعة عند ابی حنیفة واصحابه رحمهم الله فالظاهر ان المراد اذا کانت وحدها (ردالمحتار باب الرضاع ج۲ ص۵۲۸. ط.س. ج۳ ص ۲۲۴). ظفیر